إنه لقرآن كريم في كتاب مكنون

تفسير القرآن الكريم

بلغة البشتو

للشيخ ابي زكريا عبد السلام الرستمي حفظه الله

دار السلام

تفسير القرآن الكريم

بِاللُّغَةِ الْبَشْتو

جميع حقوق الطبع محفوظة للناشر ALL RIGHTS RESERVED ©

جُملہ حقوقِ اشاعت برائے دارالسلام محفوظ ہیں

پہلا ایڈیشن نومبر 2002ء بمطابق رمضان المبارک 1423ھ



دارُالسّلام

کتاب وسُنّت کی اشاعت کا عالمی ادارہ

ہیڈ آفس : پوسٹ بکس:22743 ریاض:11416 سعودی عرب

فون : 4033962 - 4043432 (009661) فیکس: 4021659

اِی میل: darussalam@naseej.com.sa بک شاپ فون: 4614483 فیکس: 4644945

جدہ فون وفیکس : 6807752 الخبر فون: 8692900 فیکس: 8691551

شارجہ فون : 5632623 (009716) فیکس: 5632624 (009716)

پاکستان : ① 50 لوئر مال نزد ایم ۔ اے ۔ او کالج لاہور فون: 7232400 - 7240024 (0092 42)

فیکس: 7354072 اِی میل: darussalampk@hotmail.com

② رحمان مارکیٹ، غزنی سٹریٹ، اُردو بازار، لاہور فون: 7120054 فیکس: 7320703

لندن فون: 5202666 (0044 208) فیکس: 5217645

ہیوسٹن فون: 7220419 (001 713) فیکس: 7220431 نیویارک فون: 6255925 (001 718)

Website: http://www.dar-us-salam.com

إِنَّهُ لَقُرْآنٌ كَرِيمٌ فِي كِتَابٍ مَكْنُونٍ

تفسير القرآن الكريم

بِاللُّغَةِ الْبَشْتو

لِلشيخ ابي زكريا عبد السلام الرستمي حفظه الله

دار السلام
كتاب وسنت كى اشاعت كا عالمى ادارہ
رياض • جده • شارجه • لاهور
لندن • هيوستن • نيويارك
DARUSSALAM


بسم الله الرحمن الرحيم

بسم اللہ الرحمن الرحیم

دَ شیخ القرآن صاحب دَ زندگئ مختصر حالات

نوم پیدائش حالات: دَ مصنف نوم شیخ القرآن والحدیث ابو زکریا علامه سید عبد السلام صاحب دے او اوس دَ شیخ القرآن په نوم باندے مشهور دے او دے په ۱۹۳۸ء کښ دَ رستم په کلی کښ پیدا شوے وو چه دَ مردان نه دیرش کلو میټر په فاصله باندے واقع دے۔ دَ دهٔ دَ پلار نوم جناب عبد الرؤف صاحب وو۔ شیخ القرآن اول دَ سکول تعلیم شروع کړو او کله چه پرائمری پاس کړه نو بیا دَ دینی تعلیم ابتدائے اوکړه او دَ صرف، نحو، منطق، اصول، معانی وغیره ټول کتابونهٔ ئے په رستم کښ اُوئیل۔

بیا آخر کښ شیخ القرآن صاحب دَ احادیثو دوره په جامعه اسلامیه اکوړه خټك کښ دَ مولانا عبد الرحمٰن بهبودی رحمة اللّٰه علیه او مولانا عبد الشکور رحمة اللّٰه علیه نه اوکړه او بیائے دَعلم تفسیر تعلیم دَ شیخ القرآن مولانا غلام اللّٰه رحمة اللّٰه علیه دَ پندئ او شیخ القرآن مولانا محمد طاهر رحمة اللّٰه علیه دَ پنج پیر نه حاصل کړو۔

دَ فراغت نه پس شیخ القرآن صاحب په رستم کښ په مدرسه فیض الاسلام کښ مدرس شو۔ دَ دے نه روستویو کال ئے مدرسه اسلامیه عربیه میانوالی(پنجاب) کښ تدریس اوکړو او بیائے دوه کاله مدرسه محمودیه قلعه دیدار سنګهه (ګوجرانواله) کښ ئے تدریس اوکړو۔

بیا شیخ القرآن صاحب ۱۹۶۷ء کښ دوباره رستم ته راغلو او دَ یوے مدرسے بنیادئیے کښ کیخودو دَ جامعه تعلیم القرآن په نوم باندے۔

او دَ دے مدرسے دَ اهتمام ذمه واری هم دَ شیخ القرآن صاحب په ذمه باندے وه۔ شیخ القرآن صاحب به تعلیمی کال کښ دَ کتابونو تدریس کوو۔ او په رمضان کښ دَ قرآن کریم دَتفسیر دوره به ئے کوله۔ په علم تفسیر او علم حدیث کښ شیخ القرآن صاحب ته دومره مهارت حاصل ووچه په زرګونو طالبان به هر کال په دوره تفسیر کښ شاملیدل۔ دَ درس وتدریس سلسله شروع وه لیکن بل طرف ته مخالفینو دَهغه ځائے او دَ مضافاتو دَ توحید او سنت دا رنړا نه برداشت کوله او آخر کارئیے دَ هغه خلاف دروغ مقدمے جوړے کړے او دَ هغے په وجه شیخ القرآن صاحب جیل ته لاړو لیکن په جیل کښ هم شیخ القرآن صاحب دَ درس وتدریس سلسله جاری او ساتله۔ بیا شیخ القرآن صاحب چه دَ جیل نه آزاد شونو شیخ القرآن صاحب دَ رستم نه پیښورته هجرت اوکړو او په پیښورکښ دَ جامعه عربیه په نوم په بڼه بیر کوهاټ روډ باندے دَ یوے مدرسے بنیاد کیښودو او په هغے کښ ئے دَ درس وتدریس سلسله شروع کړه۔ او پیښور کښ شیخ القرآن صاحب ته اللّٰه تعالیٰ نور زیات شهرت ورکړو او نن صبا دَ شیخ القرآن صاحب په دوره تفسیر کښ چه دَ یکم شعبان نه دَ (۲۷) رمضان پورے وی په زرګونو طلباء او طالبات

شرکت کوی او کال په کاله دا تعداد سیوا کیږی۔

دَ شیخ القرآن صاحب دَ اهتمام لاندے په پیښور کښ جامعه عربیه لحفظ القرآن الکریم او دار التفسیر جامعه عربیه او جامعه عربیه للبنات او په رستم کښ جامعه تعلیم القرآن او دار الاطفال الاسلامی چلیږی۔

شیخ القرآن صاحب دَ دے تفسیر نه علاوه لاندنی کتابونه لیکلی دی۔

تصانیف:

۱۔	**تفسیر احسن الکلام** "نهه جلدونو کښ"	(پښتو)
۲۔	**توجیه الناظرین الی مقاصد الکتاب المبین**	(عربی)
۳۔	**خطبات**	(عربی مع پښتو ترجمه)
٤۔	**التبیان فی تفسیر ام القرآن**	(عربی)
٥۔	**الدرر المنظومات فی ربط السور والایات**	(پښتو)
٦۔	**تنشیط الاذهان فی اصول القرآن**	(عربی)
۷۔	**لطائف القرآن**	(عربی)
۸۔	**تحفة السجن**	(پښتو)
۹۔	**الدعوة فی القرآن**	(عربی)
۱۰۔	**بدرة الصلات فی مستخرجات احادیث المشکوٰة**	(عربی)
۱۱۔	**احسن الندی**	(اردو)
۱۲۔	**ترتیب الجهاد**	(عربی)
۱۳۔	**سیرة الازم**	(اردو)

دَ دے نه علاوه شیخ القرآن دَ جمعیت اشاعة التوحید والسنة علی منهاج السلف الصالحین باکستان امیرهم دے۔

آخر کښ دَ اللّٰه تعالیٰ نه دعا غواړم چه اللّٰه تعالیٰ دِ شیخ القرآن صاحب ته دَ قرآن وسنت دَ خدمت د پاره لوئے عمر ورکړی۔ (اٰمین)

ټولو تفسیر کتونکو ملګرو ته درخواست دے چه هغوی دِ دَجامعه عربیه استاذان او عمله او خاص کر **فیض الرحمٰن** او **مولانا سراج محمد** ناظم جامعه عربیه همیشه په خپلو دعاګانو نو کښ یادوی۔

از: فیض الرحمٰن بن مولانا فضل الرحمٰن

مردان، تخت بهائی، ګنجئ۔

بسم الله الرحمن الرحيم

مقدمه

الحمد لله الذی نزل احسن الحدیث لهدایة الخواص والعوام وجعل سنة النبیﷺ تبیانا لتذکیر جمیع الانام ووفق امته الاتباع للکتاب والسنة للتفسیر والتشریح تیسیرا للمقام وصلی الله تعالی علی نبیه المصطفی مع ادامة السلام وعلی آله واصحابه واتباعه دعاة الایمان والاسلام۔

اما بعد!

تفسیر احسن الکلام په پښتوژبه په نهه جلدونو کښ تقریباً لس کلونو کښ اختتام ته اورسیدلو او دَطباعت سره دَهغے اشاعت او دَ مسلمانانو لاسونو ته رسیدل دَ الله تعالیٰ فضل وکرم دے۔ لیکن دَ دغه تفسیر دَ اوګدوالی په وجے سره بعض احبابو مطالبه او اصرار اوکړو چه دَدے اختصار اوکړے شی دپاره دَدے چه فائده ئیے ډیره عامه شی نو اوس ستاسو په رواندے **تفسیر القرآن الکریم** پیش کیدیشی۔ دَدے دَ تصحیح په باره کښ **مولوی فیض الرحمٰن بن مولوی فضل الرحمٰن** ډیر کوشش کړیدے او دَ دے دَ طباعت دَ اول ایډیشن دپاره **مکتبه دار السلام (ریاض.لاهور)** ډیر محنت کړے دے هاں دَ دے سره بیاهم که بعض غلطئ او خطائے باقی پاتے وی نو دوستانونه امید دے چه دَ هغے دَ تصحیح باره کښ مونږ ته خبر راکړی۔ دَ دے تفسیرنه دَ فائدے اخستلو دَ پاره خاص اصطلاحات دی چه هغه دَ تفسیر چه اول کښ پیش کیږی چه دَهغے عنوان په لفظ هدایات سره کیخو دے شویدے هغه اوګورئ۔

ابو زکریا عبد السلام غفرله

بسم الله الرحمن الرحیم

(ضروری هدایات دَ دے تفسیر دَ کتونکی دَپاره)

تفسیرخوپښتوژبه کښ دے کوشش کړے شوے دے چه ترجمه اومضمون په ساده پښتو کښ اولیکلے شی۔ لیکن مجبوراً بعضے الفاظ پکښ په عربئے ژبه کښ دی نودَ هغے وضاحت کیدے شی:

دعویٰ: هغه مسئله چه په سورۃ کښ ډیره ضروری وی اوسورت ټول دَ هغے طرف ته را کړے شی۔

دلیل : هغه خبره چه په هغے سره دَ دعویٰ ثبوت کیږی۔ چه دَ صحیح عقل سره مناسب وی نوهغے ته عقلی دلیل وئیلے شی او چه دَ مخکے زمانے دَ نبی او ولی یا دَ کتاب دَ اللّٰه تعالیٰ نه نقل وی نوهغے ته دلیل نقلی وئیلے شی۔ اوکله چه دَ یوخبرنسبت اللّٰه تعالیٰ ته شویوی نوهغے ته وحی دلیل وئیلے شی۔

تخویف دُنیوی: دَ دُنیا دَ عذاب ویره ورکول۔

تخویف اُخروی: دَ آخرت دَ عذاب نه ویره ورکول۔

بشارت دُنیویه: دَ دُنیا دَ خوشحالئے اونعمت په باره کښ زیرے ورکول۔

بشارت اُخرویه: دَ جنت دَ نعمتونو زیرے ورکول۔

تزهید فے الدنیا: دَ دُنیا دَ محبت نه دَ بچ کیدلوذکرکول۔

زجر: په یو وینا یا عمل باندے زورَنه ورکول۔

تشجیع: دَ یوښهٔ عمل په باره کښ تیزی اوبهادری ورکول۔

ترغیب: دَیوښهٔ کارپه باره کښ مینه ورکول۔

شرك اعتقادی: په عقیده کښ شرك کول۔

شرك فعلی: په عمل کښ شرل کول خصوصاً په حلال اوحرام کښ دَ اللّٰه تعالیٰ شریك جوړول۔

شرك فی العلم: صفت دَاللّٰه تعالیٰ چه علم دَ غیب او علم دَ کل شي دے دَ بل چا دپاره ګڼړل۔

شرك فی التصرف: پیدائش او واکدارئ او قدرت دَهرځیزکښ اللّٰه تعالیٰ سره بل څوك حصه دارګڼړل۔

صِدق دَ رسول: دَ رسول دَ رسالت رشتینوالے ثابتول۔

صدق دَکتاب: دَ قرآن کریم رشتینوالے ثابتول۔

انفاق فی سبیل اللّٰه: دَ اللّٰه تعالیٰ په لارکښ (دعوت۔ جهاد) کښ مال خرچ کول۔

ربط: دَیوآیت یا سورت دَ مخکے سره تړل اومناسبت بیانول۔

سُوْرَةُ الفَاتِحَةِ (۱۱ مَكِّيَّةٌ (۵)) بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ① (اٰيَاتُهَا، رُكُوْعُهَا)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ②

خاص په نوم دَ اللّٰه تعالیٰ سره چه عام مهربانئ والاخاص رحم والا دے(امداد غواړوپه ټولو حاجتونو او حالتونو کښ) (۱)

ټول صفتونه دَ ځدائیتوب خاص اللّٰه تعالیٰ لره دی چه پالنه کوونکے دَ ټول عالم دے(۲)

سورة الفاتحه

دا دَ قرآن په کتبی ترتیب کښ اول سورة دے اومکی دے اومکی هغے ته وئیلے شی چه دَ هجرت دَ نبی نه ړوانډے نازل شوے وی اودَ دے سورة مفسرینو دویشت نومونه ذکرکړی دی مشهور نوم ئے الفاتحه ده چه دَ قرآن کریم افتتاح او دَ مونځ دَ هر رکعت افتتاح پدے سورت سره کیږی۔ بل نوم ئے اُم القرآن یعنی دَ قرآن کریم مقاصد اصول په دے سورة کښ راجمع دی دَ هغے تفصیل دا دے چه په دے سورة کښ پنځه اقسام دَ توحید دی توحید دَ ذات، توحید دَ ربوبیت، توحید دَ اسماء صفات، توحید دَ الوهیت، توحید دَ حکم اوتشریع ۔اودارنګ دَ معرفت پنځه قسمونه دی معرفت دَ ذاتِ الٰهی، معرفت دَ صفاتودَ اللّٰه تعالیٰ معرفت دَ حقوقو دَ اللّٰه تعالیٰ معرفت دَ هغه لارے چه رسوؤنکے ده حقوقودَ هغه ته معرفت دَ اهل طریق او دَ هغے دَ مخالفینو۔ دارنګ پنځه نومونه دَ اللّٰه تعالیٰ دی اللّٰه، رب، رحمٰن، رحیم، مالك، اودَ اووګمراهو فِرقو تردید دے۔ ټول مشرکان، قدریه، جبریه، مرجئه، روافض شیعه اوټول مبتدعین او جهمیه۔

دعویٰ دَ دے سورة: اثبات دَ صفاتو دَ الوهیت (خدائی توب) خاص اللّٰه تعالیٰ لره په لفظ دَ الحمد للّٰه سره۔

خلاصه دَ سورة: اول دعویٰ ده ، دویم دریے دلیلونه دی، دریم نتیجه دَ هغے په توحید دَ عبادت او استقامت سره، ځلورم تعلیم دَ دُعا دَ هدایت او استقامت، پنځم ذکر دَ درے ډلو۔

تفسیر

[۱]﴿بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ﴾ باء دَپاره دَ استعانت (امداد طلب کولو) ده ﴿اللّٰه﴾ اسم ذات عَلَم(نوم) دے چه ټول صفتونه دَکمال پکښ راجمع دی۔ ﴿الرَّحْمٰنِ﴾ هغه ذات چه نعمتونه ئے عام دی په دُنیاکښ اوغټو نعمتونووالا دے۔ ﴿الرَّحِيْمِ﴾، هغه ذات چه خاص رحمتونه اونعمتونه کوی په خاص بندګانو باندے په دُنیا اوآخرت کښ۔ دَ امداد غوختلوسره صفتونه دَ رحمت پوره مناسبت لری دَ دے وجے دا صفتونه ئے په ذکرسره خاص کړل ﴿بِسْمِ﴾ دَپاره متعلق پټ دے لیکن روستودَ هغے نه دَپاره دَ تخصیص پیداکولونو معنیٰ ئے دا ده چه خاص په نوم دَ اللّٰه تعالیٰ چه رحمٰن رحیم دے امداد غواړو په هرکار اوهرحال کښ اوخاص په وخت دَ شروع کولو دَ قرائت دَ قرآن کښ نو په دے کلمه کښ رد دے په شرك فی الاستعانت باندے او دا دَ دین اسلام خلاصه ده اودَ ټولوکتابونو الٰهیو مقصد دے۔

[۲]﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ﴾ دا دعویٰ دَ دے سورة ده او دا دَ پنځه سورتونوپه سرکښ راغلے ده سورة انعام،

الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ﴿۳﴾ مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ ﴿۴﴾

چه عام مهربانئے والادے خاص رحم کوونکے دے (۳) اختیارمند (واکدار) دَ ورځ دَ بدلے دے (٤)

سورة کهف، سورة سبا، سورة فاطر۔ اوپه قرآن کریم کښ ډیرځله داکلمه ذکرده۔ حمد دَ عربۍ په لغت کښ ستائنه کول (صفتونه کول) اودَ قرآن په اصطلاح کښ صفتونه کول دَ اللّٰه تعالیٰ هغه چه اللّٰه تعالیٰ دَ ځان دپاره په قرآن کریم کښ وئیلی دی اوپه احادیثوکښ رسول اللّٰه دَ اللّٰه تعالیٰ دپاره وئیلی دی او دَ هغه صفتونو خلاصه دا ده (۱) تصرف واکداری اختیارمطلق (۲) علم دَ هرځیز غائب وی اوکه حاضر دَ ماکان اومایکون اودیته ئے دَ الوهیت (خدائیتوب) صفتونه وئیلی دی ﴿لِلّٰهِ﴾ لام دپاره دَ تخصیص دے یعنی دغه صفتونه دَ الوهیت دَ اللّٰه تعالیٰ دَپاره خاص دی په دے کښ دَ هغه شریك هیڅوك نیشته نه نبی نه ولی نه ملك اوجن پیر اوفقیر اوټول مخلوق۔ نو په دے کښ رد دے په ټولو اقسامو دَ شرك اوپه ټولوډلو دَ مشرکانو باندے ﴿رَبِّ الْعَالَمِيْنَ﴾ دا صفت په طریقه دَ دلیل اول سره دے دَپاره دَ دعویٰ او دا صفت مشرکانودَاللّٰه تعالیٰ دَپاره منلے دے لکه په سورة مؤمنون (۸۷،۸٦) کښ۔ رب دَ ترتیبت نه اغستلے شوے دے یعنی یوځیز په دمه دمه خپل کمال ته رسوَل نو په تربیت کښ دوه خبرے شامل دی اول دَ پالنے دَ ژوند تیرولوځیزونه پیداکول دویم په هغے کښ دَ پالنے اثرپیداکول او داکارونه دَ اللّٰه تعالیٰ نه بغیر هیڅوك نشی کولے نوځکه دا صفت په اللّٰه تعالیٰ پورے خاص دے او دَ رب په لغت دَ عرب کښ ډیرے معانے شته اوبعضے دَ هغے نه په قرآن کښ هم مستعمل دی۔ سید، مالك، مصلح خیرخواه، حاکم، اختیار مند دَ حکم، پالنه کوؤنکے، معبود، ﴿الْعَالَمِيْنَ﴾ جمع دَ عالم ده ټول موجودات سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه دیته عالم ویلے شی په هغے کښ ډیراقسام دی دَ دے وجے نه جمع ئے ذکرکړے ده او دَ هغے تفسیر په سورة شعراء (۲٤، ۲٦، ۲۸) کښ ذکر دے۔

[۳] ﴿الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ﴾ دا هم صفتونه دَ اللّٰه تعالیٰ دی په طریقه دَ دلیل سره دَپاره دَ دعویٰ دا دواړه دَ رحمت نه اغستلے شوی دی او رحمت په صفت دَ اللّٰه تعالیٰ کښ احسان فضل اونعمت کولوته وئیلے شی او دَ بنده په صفت کښ زړه نرم کیدلوته ویلے شی۔ دا صفتونه په بسم اللّٰه کښ ذکرشوی وؤپه طریقه دَ دلیل دَ استعانت او په دے ځائے کښ په طریقه دَ دلیل دَپاره دَ تخصیص دَ حمد دَ اللّٰه تعالیٰ ذکر دی۔

[٤] ﴿مَالِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ﴾ دا هم صفت دَ اللّٰه تعالیٰ دے دَپاره دَ دلیل دَ دعویٰ، مالك دَ مِلك نه دے په معنیٰ دَ اختیار مند او واکدار سره دے اوپدے معنیٰ سره اللّٰه تعالیٰ لره خاص دے ﴿يَوْمِ الدِّيْنِ﴾ دا دَ قیامت دَ درے دیرش نومونونه یونوم دے او الدین، په ډیرمعانوسره راځی لیکن دلته په معنیٰ دَ جزا سره دے۔ اللّٰه تعالیٰ دَ هرځیزمالك دے هم په دُنیا اوهم په آخرت کښ لیکن دلته ئے تخصیص دَ روز دَ جزا اوکړوځکه چه په دُنیا کښ کوم ظاهری مالکان شته نو په قیامت کښ هیڅوك مالك نه وی بغیر دَ اللّٰه تعالیٰ نه۔ دَ دے صفتونو او دلیلونو ترتیب دا دے چه رب العالمین کښ معلومه شوه چه پیداکوؤنکے دَ هرنعمت اللّٰه تعالیٰ اوهغه ئے مالك دے نو سوال پیداکیږی چه دا نعمتونه څوك ورکوی او تقسیم کوی او فرق په دغه نعمتونوکښ شته دے اوکه نه نو الرحمٰن الرحیم سره جواب اوشو۔ بیا سوال پیداکیږی چه دَ دے نعمتونودَ

اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ ۝٥ اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ ۝٦ صِرَاطَ الَّذِيْنَ اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ ۙ

خاص تا لره بندګی (محتاجی) کوؤ مونږ او خاص ستانه امداد غواړو (دَ هرڅه اوهرحال کښ) (٥) کلك کړے مونږ په لار نیغه (سیده) باندے (٦) لارډ هغه کسانوچه نعمت کړیدے تا په هغوی باندے،

استعمال دَ تحلیل اوتحریم اختیارچاسره دے نوجواب اوشوپه مالك سره اواشاره اوشوه په یوم الدین چه دَ دے نعمتونواستعمال خوکوئے لیکن دَ حساب اودَ جزا انتظارهم کوئے۔

[٥] ﴿اِيَّاكَ نَعْبُدُ﴾ دانتیجه دَمخکے دلیلونوده چه هرکله توحید دَ ذات اودَ صفاتو ذکرشونو اوس دَ هغے په نتیجه کښ توحید دَ عبادت ذکرکوی ۔عبادت ے انتها عاجزی سرهٔ دَ پوره اطاعت نه عبارت دے او په دے کښ دَ زړه عبادات او دَ اندامونو عبادات اودَ مال عبادات اوپه هغے کښ فرض، سنت، مستحب، مکروه، اوحرام ټول داخل دی اوپه حلال اوحرام کښ اطاعت کول داهم عبادت دیے۔ ﴿اِيَّاكَ﴾، هرکله چه عبادت کښ مقصد خاص کول دَ عبادت دی دَ پاره دَ اللّٰه تعالیٰ او دغه توحید دے نو دَ دے وجے نه ایاك ئے مخکے ذکرکړو ﴿وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ﴾ په عباداتوکښ استعانت او دُعا غوختل اصل عبادت دے دَ دے وجے نه دائے دَ عبادت نه روستوپه خصوصیت سره ذکرکړو۔ اوپه دے کښ اشاره ده چه بنده په عبادت کولوکښ هم دَ اللّٰه تعالیٰ امداد ته محتاج دے نو دَ دهٔ دَ عبادت کولو هیڅ احسان په اللّٰه تعالیٰ باندے نیشته۔ او دلته هم ایاك دلالت کوی چه دُعا رامددشه وئیل حاجت روائی اودَ مشکلاتولرے کولو دپاره استعانت په اللّٰه تعالیٰ پورے خاص دے دا رد دے په هغه چاچه اللّٰه تعالیٰ نه سیوا نبی، ولی، بزرګ، پیر، فقیرته په سختئے کښ یا دَ حاجت پوره کولودپاره رامدد شه اوازونه کوی او هغوی ته دَ بندګئے په طور عاجزی کوی او داشرك دے پشان دَ شرك دَ عرب جاهلیت والو۔

[٦] ﴿اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ﴾ هرکله چه دَ توحید ټول اقسام ذکرشول نو اوس تعلیم دَ دُعا دے دَ طرف دَ اللّٰه تعالیٰ نه بندګانوته دپاره دَ مضبوط پاتے کیدلوپه هغے باندے، هدایت په لغت دَ عرب کښ لار دَ خیرخودل دی اوکله دَ شریځائے استعمالیږی په طوردَ تهکم اودَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه دَ هدایت ډیردرجات دی اوله درجه هدایت فطریه او دویمه حواس ظاهریه پیداکول اودریمه درجه قوة عقلیه ورکول څلورمه درجه عقلی دلیلونه پیداکول په نفسونو اواطرافِ عالم کښ۔ پنځمه درجه کتابونه نازلول اورسولان رالیګل شپږمه توفیق اومضبوط والے ورکول اوؤمه دَ توفیق په نتیجه سره جنت ته رسوَل او دَ دے ټولودرجو دَپاره لفظ دَ هدایت استعمال کړے شویدے۔ دلته مراد دَ هدایت نه توفیق اوپوخ والے دے اودَ دے درجے نسبت کول په اللّٰه تعالیٰ پورے خاص دے﴿الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ﴾ هغه لارچه زیاتے کمے اوکوګوالے پکښ نه وی او مقصد ته رسوؤنکے وی او دَ دے تفسیرپه قرآن کریم کښ په څلورو څیزونو سره دے اول توحید دَ ربوبیت اوالوهیت لکه په سورة آلعمران (٥١) کښ دویم قرآن کریم لکه په سورة انعام (١٢٦) کښ او دریم لارډ انبیاء علیهم السلام لکه په سورة صافات (١١٨) اویٰس (٤)کښ او

غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّآلِّيْنَ ۝٧ ع

نه دی هغه کسان چه غضب کړے شوے دے په هغوی باندے اونه دی بے لارے (۷)

څلورم تابعداری دَ طریقے دَ رسول لکه په سورة زخرف (٦١) کښ۔

[۷] ﴿صِرَاطَ الَّذِيْنَ اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ﴾ هر کله چه دَ صراط مستقیم دعوے دار ډیر خلق دی تو دَ هغے دَپاره پوره نښه ذکر کوی چه دَمنعم علیهم لاردَ نیغے لارے دَپاره نښه اودلیل دے اوخاص نعمتونه چه په قرآن کښ دَ خاص خلقو دَپاره ذکردی، (۱) الفت اومینه کول په کورنئے کښ (۲)کتاب اللّٰه اوحکمت ورکول (۳) اطاعت دَ اللّٰه اورسول (٤)غیبی نصرت (٥) نجات دَ دُنیوی عذاب نه (٦) جنت ته داخلیدل۔ اوخاص منعم علیهم انبیاء علیهم السلام اوصحابه کرام دی دا دَ قرآن دَ مختلف آیاتونونه معلومیږی چه دَ هغے تفصیلی ذکرپه تفسیراحسن الکلام کښ ذکردے مقصد داشوچه صراط مستقیم خولار دَ انبیاء علیهم السلام اودَ صحابودَ هغوی ده نوچه څوك په طریقه دَ نبی ﷺ اوپه طریقه دَ صحابوباندے نه چلیږی اودَ هغه سره دلیل سنت دَ نبی اودَ صحابونه وی نودَهغه دعویٰ دَ صراط مستقیم دروغ دعویٰ ده ﴿غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّآلِّيْنَ﴾ دا صفت موضحه دَ الذین انعمت علیهم دے یعنی منعم علیهم دَ مغضوب علیهم اوضالین نه بالکل جدا او مغائردی۔ المَغضُوب عَلَیهِم، یهودیان دی لکه چه په حدیث کښ راغلی دی دارنګ هرهغه څوك چه په هغوی کښ اسباب دَ غضب وی او هغه اسباب په قرآن کریم کښ اوولس ذکردی۔ المغضوب، لفظ کښ اشاره ده چه په دوی باندے دَ هرطرف نه غضب دے دَ اللّٰه تعالیٰ او دَ ملائکو او دَ مؤمنانو دَ طرف نه اوپه روز دَ قیامت دَ خپل تابعدارانودَ طرف نه۔ اوالضالین، داهم نصاریٰ دی لکه چه په حدیث کښ وارد دی اوهغه څوك چه په هغوی کښ اسباب دَ ضلال وی هغه هم په قرآن کریم کښ اوولس ذکردی۔ نو په دے دواړه لفظونو کښ ټول باطل پرست خلق داخل دی چه دَ حق نه مخالف وی په جهل یا په ضد اوعناد سره۔ اودا دلیل دے چه انبیاء علیهم السلام دَ اسبابو دَ غضب اوضلال نه معصوم دی او صحابه کرام دَ هغے نه محفوظ دی۔﴿آمِيْن﴾ دا وئیل دَ سورة په اختتام کښ په مونځ کښ دننه اوبهر دواړه حالتونوکښ سنت دی اوپه جهری مانځه کښ دَ امام اومقتدیانو دَپاره هم سنت دی لکه چه امام بخاری دَ دے دَپاره باب ایخودلے دے اوپه هغے کښ صحیح احادیث مرفوعه ئے ذکرکړی دی دارنګ حدیث دَوائل بن حجر چه امام ترمذی اوابن ماجه راوړے دے په دے باندے بنکاره دلیل دے۔ اوتفصیل دَ مسئلے په تفسیر احسن الکلام کښ ذکر دے ۔ او قرائت دَ سورة فاتحه په امام پسے په تفصیل سره په تفسیر دَ سورة اعراف کښ ذکر دے۔

سُوْرَةُ الْبَقَرَةِ (٢) مَدَنِيَّةٌ (٢٨٧) — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — اٰيَاتُهَا ٢٨٦ رُكُوْعُهَا ٤٠

الٓمّٓ ۝١ ذٰلِكَ الْكِتٰبُ لَا رَيْبَ ۛ فِيْهِ ۛ هُدًى لِّلْمُتَّقِيْنَ ۝٢

الف لام میم (۱) داپوره کتاب دے نیشته هیڅ شك پکښے کښ لار (دَ تقویٰ) خائی پرهیزګارانوته (۲)

سورة البقره

نومونه دَ دے سورة: فسطاط القرآن (لویه خیمه) سنام القرآن(اوچت ځائے) زهراء (چمك دار)، اوالبقرة۔

ربط : دَ دے سورة دَ مخکښ سره دا دے چه دا تفصیل دے اوهغه اجمال وو، اوهلته طلب دَ هدایت وو اودلته بیان دَ هدایت دے۔ هلته رب العالمین او دلته تفصیل دَ ربوبیت دے۔ هلته ایاك نعبد او دلته اثبات دَ توحید فی العبادة دے۔

دعویٰ دَ دے سورة: توحید او رسالت اوجهاد اوانفاق فی سبیل اللّٰه دے۔ توحید ئے ثابت کړے دے په لس طریقو سره او هریو دَ دے ځلورونه ځلور ځلورکرته ذکردی۔

اجمالی خلاصه دَ سورة: اول دعوت قرآن ته، بل دعوت مقصد دَ قرآن ته چه توحید دے بلکه ضرورت دَ خلافت دَپاره دَ اجراء دَ مقصد دَ قرآن۔ بیا اوامر نواهی دَ بقاء دَ خلافت بیا انعامات خاصه په خلافت صحیحه باندے بیا پنځوس قباحات اوخبائث دَ بنی اسرائیلو چه سبب دے دَپاره دَ زوال دَ خلافت دَ هغوی نه بیا تهذیب الاخلاق او امور سیاسیه او دَ تدبیر منزل امور دَپاره دَ قیام دَ خلافت او ورسره قتال اوحج کول اوپه آخر کښ دَ مضبوط والی دَ خلافت دَپاره انفاق فی سبیل اللّٰه دے۔

خلاصه دَ دے سورة : دا ده چه په دے سورة کښ ځلور حصے دی، اوله حصه کښ ځلور بابونه دی اول باب دَ اولے حصے تر(۲۰) پورے دے۔ دَ کتاب اللّٰه درے صفتونه، دَ مؤمنانو پنځه صفتونه، او دَ هغوی جزاګانے، بیا دَ کافرانو درے صفات او دَ هغوی سزاګانے، بیا دَ منافقانو پنځلس صفات او دَ هغوی سزاګانے او آخر کښ مثالونه دی۔

تفسیر

[۱] دیته مقطعات وئیلے شی په نیز دَ اکثرو علماؤ دا دَ متشابهاتونه دی چه دَ هغے علم حقیقت اللّٰه تعالیٰ پورے خاص دے، یوحکمت ئے دا دے چه دا تنبیه ده دَ قرآن کریم په معجزوالی باندے چه داکتاب هغه حرفونو باندے مشتمل دے دَ کومونه چه دا خلق خپلے خبرے جوړوی لیکن بیاهم دَدے کتاب پشان څه جمله نشی جوړولے او دا قول اکثراهل علموغوره کړیدے۔ اودا مقطعات دَیودیرش سورتونوپه سرکښ ذکردی اوپه حذف دَ تکرار سره څوارلس حرفونه دی چه په دوی کښ دَ حرفونودَ ټولو صفاتونه څه نه څه حصه شته دے۔

[۲] په دے کښ ترغیب دے قرآن ته په ذکرد دَ درے صفتونودَ هغه اول دا چه داپوره کتاب دے دویم په دے کښ هیڅ شك نیشته دریم په دے کښ پوره هدایت دے یعنی کوم خلق چه اراده لری دَلارے دَ تقویٰ نو هغوی ته دا کتاب لار دَ تقویٰ بنائی اوچاچه دا لارحاصله کړے ده داکتاب هغوی له پوخ والے ورکوی

الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِالْغَيْبِ وَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَ مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ۙ﴿۳﴾ وَ الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ وَمَآ اُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ ۚ وَبِالْاٰخِرَةِ هُمْ يُوْقِنُوْنَ ؕ﴿۴﴾

داهغه کسان دی چه یقین کوی په هغه څه چه دَ دوینه پټ دی، اوپابندی کوی دَ مانځه اوبعضِ دَ هغے نه چه مونږ دوی لره ورکړی دی خرچ کوی په لاردَ اللّٰه تعالیٰ کښ (۳) اوداهغه کسان دی چه یقین کوی په هغه څه چه نازل کړے شوے دے تاته اوپه هغه څه چه نازل کړے شوی دی ستانه مخکښے او په آخرت باندے دوی یقین کوی(٤)

په دغه لار باندے۔ ﴿رَيْبَ﴾ شك دے سره دَ تهمت اوانكارنه اودلته مراد دَ دے نه شك دے ليكن مخالفينودَ دے په باره كښ ريب كوؤ دَ دے وجے نه دلته ئے نفی دَ ريب اوكړه۔﴿لِلْمُتَّقِيْنَ﴾ متقی په درے درجو سره دے اول هغه چه هرقسم شرك اوكفرنه ځان بچ كوی، دويم چه په اوامرو باندے عمل او دَ منهياتونه ځان بچ كوی دريم چه دَ شبهاتونه هم ځان ساتی نو متقی په دے ټولو حالاتوكښ دَ قرآن هدايت ته محتاج دے۔

[۳] په دے كښ دَمؤمنانودرے صفات ذكردی اول ايمان په غيب باندے۔ غيب نه مرادهغه څيزونه دی چه پټ دی اواللّٰه تعالیٰ مونږته دَ هغے خبر راكړے دے اوهغه اللّٰه تعالیٰ اوملائك اوكتابونه دَ اللّٰه تعالیٰ اورسولان دَهغه اوتقديراوروځ دَاخرت او دوباره ژوند دے اودا شامل دے ټولوايمانياتوته۔دويم عبادت بدنيه چه اول اهم په هغے كښ اقامة دَصلوٰة دے چه دَهغے شرطونه اوارکان واجبات سنت، مستحب ټول په ځائے راوړی اوهميشه ئے كوی اوهغے ته دعوت ورکوی۔دريم صفت عبادة ماليه دے ﴿يُنْفِقُوْنَ﴾ نه مراد هغه خرچ دے چه دَ اللّٰه تعالیٰ دَ حكم او دَ رسول دَ طريقے سره برابروی اوكوم چه دَ دے نه خلاف وی نوهغه اسراف او تبذيردے لكه نذرانه دَ غير اللّٰه تعالیٰ،يؤ ولسمه، ماښامونه دَ مړو او ځلويښتئی وغيره اودا ټول بدعات دی ﴿وَمِمَّارَزَقْنَاهُمْ﴾په دے كښ اشاره ده چه بعضِ مال خرچ كول پكار دی او اشاره ده چه رزق تقسيم كوؤنكے اللّٰه تعالیٰ دے۔

[٤] په دے آيت كښ دَ مؤمنانو نور دوه صفتونه ذكر دی ايمان په ټولوكتابونواورسولانو اوايمان په آخرت باندے دا هم غيب كښ داخل دی ليكن جدا ئے ذكركړو دپاره دَ رد په يهودو اونصاریٰ باندے چه هغوی په خپلو كتابونو ايمان راوړی او نور نازل شوی كتابونه نه منی۔ او دارنګ آخرت په هغه صفت سره نه منی ځنګه په قرآن كښ دَ هغے تفصيلات ذكردی بلكه جنت ځان له خاص كوی۔

أُولَٰئِكَ عَلَىٰ هُدًى مِّن رَّبِّهِمْ ۖ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴿٥﴾ إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا سَوَاءٌ عَلَيْهِمْ أَأَنذَرْتَهُمْ أَمْ لَمْ
تُنذِرْهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿٦﴾ خَتَمَ اللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ وَعَلَىٰ سَمْعِهِمْ ۖ وَعَلَىٰ أَبْصَارِهِمْ غِشَاوَةٌ ۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ
عَظِيمٌ ﴿٧﴾ وَمِنَ النَّاسِ مَن يَقُولُ آمَنَّا بِاللَّهِ وَبِالْيَوْمِ الْآخِرِ وَمَا هُم بِمُؤْمِنِينَ ﴿٨﴾ يُخَادِعُونَ اللَّهَ

دغه صفتونو والا کلك دی په هدایت باندے دَ طرف دَ رب دَ دوی نه، او دغه صفتونو والا خاص دوی بچ کیدونکی دی (٥) یقیناً هغه کسان چه کفرئے کړے دے (په ضد اوپه عناد سره) برابردے په دوی باندے ویره ورکول ستا دوی لره، او ویره نه ورکول ستا دوی لره دوی ایمان نه راوړی (٦) بندش ایخے دے اللّٰه تعالیٰ په زړونودَ دوی باندے اوپه غوږونو دَ دوئ باندے اوپه سترګو دَ دوئ باندے ناآشنا پردے دی۔ اودوی لره عذاب لوئے شان والادے (٧) اوبعض دَ خلقونه هغه څوك دی چه وائی ایمان راوړے دے مونږپه اللّٰه تعالیٰ باندے اوپه روځ روستنئے باندے او(حال دادے) چه دوی ایمان نه لری په زړونو کښ (٨) دهوکه، کوی دوی دَ اللّٰه تعالیٰ سره

[٥] په دے آیت کښ دَ مؤمنانو جزاء دنیوی (هدایت) او اخروی جزاء (فلاح) ذکرده۔ مُفْلِحُ، هغه څوك دے چه مراد ته اورسی اوهیڅ تکلیف ورته نوی اوداحالت صرف په جنت کښ دے۔ اوجنت ته اول داخلیدلوته فلاح وئیلے شی ﴿أُولَٰئِكَ﴾ دلیل دے چه دَ دے صفتونونه بغیر هدایت اوفلاح نه حاصلیږی۔

[٦] دا زورنه ده کافرانوته او دَ هغوی د ړے حالات ذکرکوی۔کفرعنادی،انذار فائِده نه ورکوی او ایمان نه راوړی او دا دویمه ډله ده چه دوی غضب والادی اومراد دَ کفروا نه عنادی کفرکوؤنکی دی عام کافران مرادنه دی ځکه هغوی څو ایمان راوړی۔ معلومه شوه چه کفر دوه قسمه دے کفرجهلی او کفرعنادی، ﴿عَلَيْهِمْ﴾ علیك ئے نه دے وئیلے ځکه چه دویته په دعوت کولو کښ ثواب دَ داعی کیږی۔

[٧] تخویف (ویره ده) کافرانولره اودا دُنیوی اواُخروی سزاذکرکوی دَ ﴿خَتَمَ﴾ بندولو مطلب دا دے چه زړونه دَ دوی په حق کښ فکرنه کوی (مراد دَ زړه نه عقل دے) اوپه غوږونو سره حق نه آوری اوپه سترګو دوی حق ته نه ګوری او دَدے سبب دَ دوی کفردے لکه نساء (١٥٥) کښ اودَ دوی عملونه لکه سورة تطفیف (١٤) کښ۔ لیکن اللّٰه تعالیٰ دَ دے پیدا کوؤنکے دے اوحاکم دے ځکه اللّٰه تعالیٰ ځان ته نسبت کړے دے۔ او دا درے قوتونه چه په حق کښ نه استعمالیږی نو دَ انسانیت آثار ترینه بهرشی ﴿عَذَابٌ عَظِيمٌ﴾ عذاب هرحالت دَ تکلیف او ضررته ویلے شی۔ عظیم، مراد دَ عظمت نه ډیر هیبت ناك اوهمیشه عذاب دے او دا خاص دے په کافرانو پورے۔

[٨] دَ دے آیت نه تر(١٤) پورے زورنے دی منافقانو ته او دَ هغوی پنځلس ناکاره صفات دی او دا دریمه ډله ده۔ ګمراهان دی اودا دَ دوی اول صفت دے، اوتعریف دے دَمنافقت، ﴿وَمَا هُم بِمُؤْمِنِينَ﴾ په زړه کښ ئے تصدیق نیشته یا دَ اللّٰه تعالیٰ په نیز مؤمنان نه دی۔

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۚ وَمَا يَخْدَعُوْنَ اِلَّآ اَنْفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُوْنَ ۝٩ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ ۙ فَزَادَهُمُ اللّٰهُ مَرَضًا ۚ
وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۢ بِمَا كَانُوْا يَكْذِبُوْنَ ۝١٠ وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ لَا تُفْسِدُوْا فِي الْاَرْضِ ۙ قَالُوْٓا اِنَّمَا نَحْنُ
مُصْلِحُوْنَ ۝١١ اَلَآ اِنَّهُمْ هُمُ الْمُفْسِدُوْنَ وَلٰكِنْ لَّا يَشْعُرُوْنَ ۝١٢ وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ اٰمِنُوْا كَمَآ اٰمَنَ النَّاسُ

او دَ هغه کسانوسره چه ایمان ئے راوړے دے، اودهوکه نه کوی دوی په حقیقت کښ مګړدَ خپلوځانونو سره اونه پوهیګی دوی (په ټکئ کولو دَ ځان سره) (۹) (ځکه چه) په زړونودَ دوی کښ مرض دے، پس زیات کړو اللّٰه تعالیٰ دَ دوی مرض (په قرآن نازلولوسره) او دپاره دَ دوی عذاب درد ناك دے په سبب دَ دے چه دوی همیشه دروغ وائی(۱۰) اوکوم وخت چه اُویلے شی دوی ته مه کوئے روانے په دنیا کښ دوی وائی بیشکه ځاص مونږ جوړخ (اصلاح) کوونکی یو(۱۱)خبرشئے یقیناً دوی ځاص دوی روانے کوونکی دی او لیکن دوی نه پوهیږی په دے روانی کولو(۱۲)اوکوم وخت چه اُویلے شی دویته ایمان راوړئے پشان دَ هغے چه ایمان راوړے دے (کاملو)خلقو

[۹] په دے کښ هم زجردے او دَ منافقانو دوه صفتونه دی، خداع کول اوعدم شعور، هرکله چه یوکس دَ دینُ یو کارکوی او اراده لری چه په هغے سره دَ دُنیا فائدے حاصل کړی لکه ایمان یا عبادت وغیره دَ دنیا دَ عوض او اجرت اوجاه دپاره، نوداخداع (ټکی) ده ﴿اللّٰهَ﴾ اللّٰه تعالیٰ سره مخادعه کول دَ دوی په زعم کښ مراد ده یا مراد ترینه مخادعه کول دَ رسول دَ هغه سره ﴿وَمَا يَخْدَعُوْنَ اِلَّآ اَنْفُسَهُمْ﴾ یعنی وبال دَخداع اودَ هغے ناکاره آثاربه په دُنیا یا آخرت کښ خاص په دوی باندے راپریوزی۔

[۱۰] په دے آیت کښ هم زجردے او دَ منافقینو دوه صفات او دوه سزاګانے ذکرکوی یو دَ دنیا دویم دَ آخرت۔ ﴿مَرَضٌ﴾ مرض دَ زړه دَ دوی شك، نفاق، بزدلی اوحسد دَ مؤمنانوسره، پَره دو زنانوته میلان کول، دَ دین کار دَ خپل غرض دپاره کول، په زړه کښ دَ کافرانو سره مینه کول دا په قرآن کریم کښ ځائے په ځائے ذکرشوی دی ﴿فَزَادَهُمُ اللّٰهُ مَرَضًا﴾ دا خبرے کول په طریقه دَ تعلیم سره دَ طرف دَ اللّٰه تعالیٰ نه دی یا جمله خبریه ده یا ځومره چه قرآن نازلیږی یا حق ښکاره کیږی یارمؤمنان ترقی کوی نو په هغے سره دَ دوی دغه مرضونه دَ نفاق هم ډیریږی اوهرکله چه سبب دَ دے نزول دَ قرآن دے دَ دے وجے نه دَ دے دی زیادت سبب ئے هغه ذکرکړیدے په سورة مائده (٦٤،٦٨) اوتوبه (١٢٥) کښ او سورة اسراء (٨٢) کښ۔ ﴿يَكْذِبُوْنَ﴾ او ﴿كَانُوْا﴾ دلیل دے چه دروغ وئیل دَ دوی عادت دے ۔ او دا اول سبب دَ عذاب دے نو دلالت کوی چه دروغ وئیل غټ ګناه دے او حدیث کښ دَ منافق په نښو کښ یونښه دا ذکرده چه خبرے کوی نو دروغ به وائی۔

[۱۱] په دے آیت کښ هم زجردے او دَ دوی یوصفت قبیحه ذکرکوی چه هغه فساد ته اصلاح وئیل دی۔ فساد دَ دوی دا دے شرك کول، خلق دَ قرآن نه منع کول، پره دے مال هلاکول، غلاکول، دَ یتیمانو مال خوړل، سحر منترکول، خلاف دَ توحید اوسنت نه کول، دا ځائے پځائے قرآن کریم کښ ذکر دی منافقینو دے کارونه ته دَا صلاح او دَنیکئے کارونه وئیل دا صفت دَ هربدعتی او مشرك دے چه بدعت ته سنت وائی اوشرك ته توحید وائی۔

قَالُوْٓا اَنُؤْمِنُ كَمَآ اٰمَنَ السُّفَهَآءُ ؕ اَلَآ اِنَّهُمْ هُمُ السُّفَهَآءُ وَلٰكِنْ لَّا يَعْلَمُوْنَ ﴿١٣﴾ وَاِذَا لَقُوا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قَالُوْٓا
اٰمَنَّا ۚ وَاِذَا خَلَوْا اِلٰى شَيٰطِيْنِهِمْ ۙ قَالُوْٓا اِنَّا مَعَكُمْ ۙ اِنَّمَا نَحْنُ مُسْتَهْزِءُوْنَ ﴿١٤﴾ اَللّٰهُ يَسْتَهْزِئُ بِهِمْ وَيَمُدُّهُمْ فِيْ
طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُوْنَ ﴿١٥﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ اشْتَرَوُا الضَّلٰلَةَ بِالْهُدٰى ۪ فَمَا رَبِحَتْ تِّجَارَتُهُمْ وَمَا كَانُوْا مُهْتَدِيْنَ ﴿١٦﴾

نودوی وائی آیا ایمان راوړو مونږ پشان دَ هغه چه ایمان راوړے دے بے وقوفوخلقو خبرشئے بیشکه دوی خاص دوی بے وقوفان دی او لیکن دوی نه پوهیږی (په بے وقوفئے خپله) (۱۳) او کوم وخت چه دوی مخامخ شی دَ هغے کسانوسره چه ایمان ئے راوړے دے وائی دوی چه ایمان راوړے دے مونږ۔ اوکوم وخت چه دوی لاړشی شیطانانو خپلوته وائی یقیناً مونږه ستاسو ملګری یو(په دین کښ) یقیناً مونږتوقے کوؤ مؤمنانو پورے (۱٤) اللّٰه تعالیٰ بدله دَ ټوقو ورکوی دویته اوزیاتوی دوی په سرکشئے دَ دوی کښ پداسے حال چه دوی به حیران وی (۱۵) دغه صفتونو والا داسے خلق دی چه اغستلے ده ګمراهی په بدله دَ هدایت کښ پس ګټه اونکړله سوداګرے دَ دوی، اونه دی دوی لار موندونکی (۱٦)

[۱۲] په دے کښ هم زورنه ده او دَ منافقینو یوصفت قبیحه ذکرکوی چه فسادونه کول دی اوپه دے کښ ردکول دی په ډیر تاکید سره په دعویٰ دَ اصلاح دَ هغوی باندے ﴿وَلٰكِنْ لَّا يَشْعُرُوْنَ﴾ دا عدم شعور دَ دوی عذرنه دے بلکه دوی په قصد سره تحقیق دَ حق پریخودلے دے۔

[۱۳] په دے آیت کښ زورنه ده اودَمنافقانو درے خصلتونه ذکرکوی۔ صحابوته سفهاء وئیل۔ په خپله سفاهت کوی اوجاهِل مرکب دی ﴿وَاِذَا قِيْلَ﴾ دادعوت دَ معروف دے روستودَ نهی عن المنکرنه ﴿النَّاسُ﴾ کامل خلق چه هغه صحابه کرام دی په دے ایت کریمه کښ ایمان دَ صحابه کرامو معیار دپاره دَ ایمان دَخلقو ګرځولے شوے دے اواشاره ده چه قول اوعمل دَ صحابوحجت دے په شریعت کښ په خپلو شرطونو سره۔ دارنګ پدے ایت سره اشاره ده چه څوك دَ صحابه کرامو تنقیص کوی او هغوی پسے بدوائی نوهغه منافق دے﴿السُّفَهَآءُ﴾ څوك چه دَ نفع اونقصان په ځائے ښهٔ نه پوهیږی هغه ته سفیه وائی۔ قرآن کښ سفیه جهل او دَ دین دَ توحید نه مخ ګرځوونکے او پیغمبر اوصحابو باندے اعتراض کونکے، اوشرك کوؤنکوته ئے وئیلے دے ﴿وَلٰكِنْ لَّا يَعْلَمُوْنَ﴾ مراد دَ دے نه جهل مرکب دے ځکه چه بے علمئے باندے نه پوهیږی نو جاهل مرکب دے هرکله چه سفاهت معنوی وصف دے دَ دے پیژندلوته علم وئیلے شی نو لایعلمون ئیے اوئیل اوفساد کول صفت ظاهری دے دَ هغے پیژندلوته شعور ویلے شی نومخکے آیت کښ لایشعرون ویلی وؤ۔

[۱٤] په دے آیت کښ زورنه ده او دَ منافقانو دوه صفتونه ذکرکوی یومعیت (ملګرتیا) دَ شیطانانوسره اودویم استهزاء کول، شیطان نه مراد هغه کسان دی چه دَ نبی ﷺ دَمجلس نه اودَ حق پرستو دَ ملګرتیانه خلق منع کوی ﴿اِسْتِهْزَاءٌ﴾ یوه خبره یا یوعمل یایوکس ته سپك اوګوری اوورپورے توقے کوی اوپه خبره عمل نه کوی دلته مراد استهزاء کول دی په اللّٰه تعالیٰ اوپه رسول اللّٰه ﷺ او قرآن پورے لکه چه سورة توبه (٦۵) کښ ذکردی۔

[۱۵] په دے ایت کښ دَ دوی یوصفت (طغیان) ذکرکوی اوسزا دُنیوی او اُخروی ذکرکوی۔

مَثَلُهُمْ كَمَثَلِ الَّذِي اسْتَوْقَدَ نَارًا ۖ فَلَمَّا أَضَاءَتْ مَا حَوْلَهُ ذَهَبَ اللَّهُ بِنُورِهِمْ وَتَرَكَهُمْ فِي ظُلُمَاتٍ لَّا يُبْصِرُونَ ﴿١٧﴾ صُمٌّ بُكْمٌ عُمْيٌ فَهُمْ لَا يَرْجِعُونَ ﴿١٨﴾ أَوْ كَصَيِّبٍ مِّنَ السَّمَاءِ فِيهِ ظُلُمَاتٌ وَرَعْدٌ وَبَرْقٌ ۚ

حال دَ دوی پشان دَ حال دَ هغه چادے چه بل کړے دے اور، پس هر کله چه رنړا کړی اور هغه څه چه چاپیره دَ دهٔ دی، یوسی اللّٰه تعالیٰ رنړا دَ دوی، او پریږدی دوی لره په ډیرو تیرو کښ چه دوی هیڅ نه وینی (۱۷) (دوی) کانړه دی چاړه ګان دی ړانده دی پس دوی نه راګرځی (دَګمراهیٔ نه حق ته) (۱۸) یا حال دَ دوی پشان دَ ډیرباران دے دَ اسمان دَ طرف نه چه په هغے کښ ډیرے تیرے وی او ګړ ګوړوی اوبریخنا وی۔

﴿طُغْيَانِهِمْ﴾ په هرکار او ویناکښ دَ شریعت دَ حدودونه وتلوته طغیان وائی ﴿يَعْمَهُونَ﴾ دَ زړه رونددوالے اوپریشان تیا اوحیران تیاته عَمه ویلے کیږی ﴿اللَّهُ يَسْتَهْزِئُ بِهِمْ﴾ دانسبت اللّٰه تعالیٰ ته حقیقتاً دے بغیرد تشبیه اوتاویل نه او مراد دا دے چه اللّٰه تعالیٰ په دوی پورے استهزاء کوی په عذابونو ورکولو سره، سرهٔ دَ دعوے دَ ایمان دَ دوی نه ﴿وَيَمُدُّهُمْ﴾ دا هم دَ دوی سزا ده چه سرهٔ دَ سرکشئی نه اللّٰه تعالیٰ دوی له اسباب دَ سرکشئے ډیرَوی نو سرکشی زیاتیږی او دا زیاتوالے سبب دَ سکون نه دے بلکه سبب دَ عمه دے۔

[١٦] په دے کښ نتیجه دَ مخکے صفاتو ذکرکوی سرهٔ دَ زجرنه او دَ هغوی دوه صفات قبیحه نورذکر کوی یواشتراء دَ ضلالت دویم عدم اهتداء ﴿اشْتَرَوُا﴾ دے ایت کښ په معنیٰ دَ بدلولواوپه معنیٰ دَ غوره کولوده او دا دلیل دے چه منافقان ضآلون (ګمراهان) دی ﴿الضَّلَالَةَ﴾ مراد دَ دے نه هغه ناکاره صفات او اعمال دی چه مخکے ذکرشول ﴿بِالْهُدَىٰ﴾مراد دَ دے نه صفات دی دَ ایمان والو﴿وَمَا كَانُوا مُهْتَدِينَ﴾ په دے کښ عدم اهتدا دَ دین حق یا روکیدل دَ رأس المال مراد دی۔

[١٧] دا مثال دَ منافقانویا دَ کافرانودے چه دَ قرآن نه خلق منع کوی اوپخپله هم قرآن نه آوری تفصیل ئے دا دے چه منافق رنړا دَ ایمان په آمنّا سره حاصله کړیده لکه یوسړی چه اوربل کړے وی ، منافق په ایمان دَ دُنیا فائِدے حاصلے کړی دی، په غنیمت کښ حصه په زکوٰة کښ حصه لکه څنګ چه اور والا ته چاپیره رنړا حاصل شوے ده، دَ منافق امتحان او مصیبت په وخت کښ کفرښکاره شویا کله چه مړشی نو دَایمان رنړا ختم شوه لکه په اور والا باندے سیلئی راشی او رنړائے مړه شی اوپه تیَروکښ پاتے شی۔ یا دا مثال دَ ښکاره کافر دپاره هم کیدے شی، تفصیل ئے دا دے چه رسول اللّٰهﷺ په مکه مکرمه کښ دَ توحید او دَ قرآن رنړا اولګوله چا پیره لرے لرے خلقو فائِده واغستله او ایمان ئے رواړو او دَ مکے کافرانو قرآن نه آوریدلو او نور خلق ئے ترینه منع کول، بیا پیغمبرﷺ هجرت اوکړو اومکے والاپه تیَروکښ پاتے شول دَ شرك اودَ کفر اورسم ورواج وغیره تیَرے، دارنګ دَ قرآن بیان کؤنکے دے چه کله دَ یوځائے خلق دَ هغے نه فائِده وانخلی نو اللّٰه تعالیٰ هغه قرآن والا بل ځائے ته اولیږی اودغه خلق په تیَروکښ پاتے شی ﴿اسْتَوْقَدَ نَارًا﴾ په روستنئے توجیه سره اشاره ده چه نبیﷺ دَ رنړا بلوَلو دپاره ډیرکوشش کړے دے او نارئے ذکرکړو چه دَ هغے دَپاره خشاك پکار دے نو دارنګ صحابه او نور دَ قرآن شاګردان تیارشول۔ ﴿بِنُورِهِمْ﴾ نارهم ئے نه دے وئیلے ځکه چه توحید اوقرآن او رسالت دَ رسول نور دے دَ نبیﷺ په هجرت

يَجْعَلُوْنَ اَصَابِعَهُمْ فِيْٓ اٰذَانِهِمْ مِّنَ الصَّوَاعِقِ حَذَرَ الْمَوْتِ ؕ وَاللّٰهُ مُحِيْطٌۢ بِالْكٰفِرِيْنَ ﴿١٩﴾ يَكَادُ الْبَرْقُ
يَخْطَفُ اَبْصَارَهُمْ ؕ كُلَّمَآ اَضَآءَ لَهُمْ مَّشَوْا فِيْهِ ۙ وَاِذَآ اَظْلَمَ عَلَيْهِمْ قَامُوْا ؕ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَذَهَبَ بِسَمْعِهِمْ
وَاَبْصَارِهِمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿٢٠﴾ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوْا رَبَّكُمُ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ وَالَّذِيْنَ مِنْ ع ٣

ږدی دوی ګوتے خپلے په غوږونوخپلو کښ۔ دَ سختو آوازونو (دَګړزهار) نه دَ وجے دَ ویرے دَ مرګ نه، اواللّٰه تعالیٰ راګیروونکے دے (په علم اوقدرت کښ) کافرانو لره (۱۹) نزدے ده بریښنا چه اوتختوی نظرونه دَ دوی، هر وخت چه رنړا کړی دویته (یولار) روان شی دوی په هغے کښ، اوکوم وخت چه تیاره کړی په دوی باندے نوحصار شی، اوکه غوختلے اللّٰه تعالیٰ نوبوتلے به ئے وے غوږونه دَ دوی او سترګے دَ دوی، یقیناً اللّٰه تعالیٰ په هرځیز باندے قدرت لرونکے دے(۲۰)اے خلقوبندګی خاص کړئے دَ رب ستاسو، هغه ذات چه پیدائے کړئ تاسو او هغه کسان چه

سره دا ټول مدینے ته لاړل۔ دارنګ نار (اور) کښ رنړا او سوزَول دوه صفتونه دی نورنړا لاړله او سوزول پاتے شویدی۔

[۱۸] دا بیان دَحال دَ مشبه دے یعنی داکافران اومنافقان چه عنادیان دی دَعلم حواس ئے ختم شویدی مطلب دا دے چه دَ تیَرونه دَ وتلودپاره دَ دوی سره هیڅ سبب پاتے نه دے غوږونه اوسترګے اوژبه ئے دَ حق دپاره نه چلیږی ﴿لَا يَرْجِعُوْنَ﴾ دَ ګمراهئی نه هدایت ته واپس نشی راتللے۔

[۱۹] دا دویم مثال دے دَپاره دَاعتقادی منافقانو لکه چه څنګه باران وی دَ برے نه اوپه هغے کښ تیاره او رعد اوبریښناوی، اوباران دَ لاندے څه خلق راګیرشوی وی اوهغوی ګوتے غوږونوکښ دَ وجے دَ ګړزارنه ورکوی دارنګ قرآن پاك دَ اسمان نه نازل شوے دے په هغے کښ دَ شرك اوکفر اقسام او په شرك اوکفراونفاق باندے رد دے اودَتوحید او ایمان رنړا پکښ ذکرده منافقان خلق چه په قرآن کښ دَ نفاق اوشرك رد آوری نو غوږونه بندَوی هسے نه چه توحید ته مائل نه شی ﴿اَوْ كَصَيِّبٍ﴾ او دَپاره دَ تنویع دے یعنی دَ بل قسم خلقومثال ذکرکیږی۔ صیّب ډیر باران ته وئیلے شی چه په هغے کښ دا روستو درے صفتونه دی اودا دَپسرلی باران وی۔ ﴿وَاللّٰهُ مُحِيْطٌ بِالْكٰفِرِيْنَ﴾ احاطه دَعلم اوقدرت اودَعذاب ورکولوده یعنی دغه باران والاچه غوګونوبندولو سره دَ تندر راتللونه نشی بچ کیدے داسے دا منافقان په اعراض دَ قرآن دَ عذاب دَ اللّٰه تعالیٰ نه نشی بچ کیدلے۔

[۲۰] دا دریم مثال دَ عمل دَ منافق دے لکه څنګ چه دَ بریښنا په رنړاکښ روان شی او په تیاره کښ اودریږی دارنګ دَ توحید دَ دلیلونو رنړا خلق حیرانوی اودَ باطل پرستو دلیلونه دَ هغے په رواندے بے کاره شی دا دَ برق مثال دے نو دے منافق ته چه کله فائده ملاویږی دَ دنیا نواسلام منی او کله چه دَ دنیا مفاد ورته نه ملاویږی نو دَ اسلام نه روستو شی۔ دَ دے ذکرپه سورة حج (۱۱) او سورة نور(٤٩) او سورة نساء (۷۳)کښ دے ﴿وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَذَهَبَ﴾ یعنی دا خلق چه دَ غوګونو او سترګونه کارنه اخلی نو اللّٰه تعالیٰ دوی ته ویره ورکوی اودَ دے پشان په سورة یٰس (٦٦،٦٧)کښ دی﴿اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ﴾ دَ خیزونونه مرادهرممکن څیز دے دَ هغے په ایجاد (پیداکولو) او روستو دَ پیدائش نه اللّٰه تعالیٰ په هغے باندے

قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿٢١﴾ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ فِرَاشًا وَّالسَّمَآءَ بِنَآءً ۖ وَّاَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَخْرَجَ
بِهٖ مِنَ الثَّمَرٰتِ رِزْقًا لَّكُمْ ۚ فَلَا تَجْعَلُوْا لِلّٰهِ اَنْدَادًا وَّاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿٢٢﴾ وَاِنْ كُنْتُمْ فِيْ رَيْبٍ مِّمَّا نَزَّلْنَا عَلٰى
عَبْدِنَا فَاْتُوْا بِسُوْرَةٍ مِّنْ مِّثْلِهٖ ۖ وَادْعُوْا شُهَدَآءَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿٢٣﴾ فَاِنْ لَّمْ تَفْعَلُوْا

ورانده ستاسو نه ژوند دپاره دَ دے چه بچ شئے (دَ شرك اودَ اورنه) (٢١) هغه ذات چه جوړه کړے ده ستاسو دپاره زمکه غوړیدلے (بستره) اوآسمان چت، او راوروی دی دَ آسمان دَ طرف نه اوبه، پس را اوباسی په دے اوبوسره میوے غلے دپاره دَ فائدے ستاسو، پس مه ګنړئے اللّٰه لره شریکان، اوحال دا چه تاسوپوهیږئے (چه داکارونه اللّٰه تعالیٰ کوی) (٢٢) اوکه ئے تاسوپه شك کښ دَ هغه څیزنه چه نازل کړے دے مونږ (لږلږ) په بنده خپل باندے پس راوړئے یو سورة پشان دَ دے قرآن۔ اورا اوغواړئے مدد ګاران خپل سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه که ئے تاسو ریښتینی (چه دا مدد کولے شی، یادا دَ اللّٰه تعالیٰ کتاب ندے) (٢٣) پس کجرے اونکړو تاسو دا کار

قدرت لری۔

[٢١] باب دویم تر (٣٩) پورے دے خلاصه ئیے دا ده اول دعویٰ دَ توحید فی العبادة او په هغے باندے پنځه دلیلونه عقلیه، یوانفسی، اوځلور آفاقی بره څخکته او دَ مینځ څیزونه بیا صدق دَ رسول او دَقرآن، بیا تخویف اُخروی اوبشارت، بیاجواب دَ سوال په باره دَ مثالونو دَ قرآن کښ او دَ اعتراض کؤنکو ناکاره صفات بیا ځلورانعامات عامه دی۔ په دے (٢١) کښ دعویٰ ده په رد دَ شرك په عبادت کښ۔ او دلیل عقلی دَ نفوسودے ﴿اعْبُدُوْا رَبَّكُمُ﴾ دا دعوت دَ قرآن دے دارنګ دعوت دَ ټولو انبیاء علیهم السلام دے۔ عبادت طاعت دے سرهٔ دَ انتهائی عاجزئے نه په عقیده دَ الوهیت دَمعبود سره (چه کار ساز اوغیب دان ئے ګنړی) په دے کښ عبادات قلبیه اوبدنیه اومالیه اواطاعت دَ احکاموټول داخل دی ﴿وَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ﴾ یعنی ستاسو مشران اوستاسو معبودان هم اللّٰه تعالیٰ ته په پیدائش کښ محتاج دی ﴿لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ﴾ لعلّ په کتاب دَ اللّٰه تعالیٰ کښ په معنیٰ دَ کے(دَپاره) دے او تقویٰ نه مراد لغوی معنیٰ ده دَ عذاب نه بچ کیدل یا شرعی معنیٰ دَ تقویٰ ده ۔

[٢٢] پدے ایت کښ ځلور عقلی دلیلونه دی علوی (بره) سفلی(بسکته) وسطی (مینځ کښ) اوپه دے کښ بیان دَ موادو دَ تربیت دے ﴿فِرَاشًا﴾ تشبیه دَ فراش سره دا معنیٰ ده چه نه ډیره نرمه ده اونه ډیره سخته ده ﴿رِزْقًا﴾ مراد دَ دے لوئے فائدے دی دَ خوراك، سکاك، لباس، میوے، علاج، دوایانے، معدنیاتونه فائدے اغستل پکښ داخل دی ﴿اَنْدَادًا﴾ ند په اصل کښ برابرمخالف ته وائی لیکن مراد دَ دے نه مطلق شریك دے که بتان وی اوکه روح اوعقل والاوی اواکثرپه ناکاره علماء اوپیرانو کښ استعمالیږی۔

[٢٣] پدے ایت کښ صدق دَ رسول اوکتاب دے په تحدّی سره (مقابله طلب کول دَقرآن) یا په طلب دَمناظرے کولوسره ﴿عَلٰى عَبْدِنَا﴾ دا اعلیٰ صفت دے دَرسول ﷺ په سبب دَ بیان کولودَ اعبدواربکم۔ ﴿مِنْ مِّثْلِهٖ﴾ ضمیرمانزلنا ته راجع دے مراد دَ دے دَ قرآن پشان په نزول من اللّٰه کښ اوپه اعلیٰ درجه دَ هدایت اوفصاحت اوبلاغت کښ ﴿شُهَدَآءَكُمْ﴾ دَ دوی معبودان مراد دی چه دوی به مددګاران

وَلَنْ تَفْعَلُوْا فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِيْ وَقُوْدُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ ۚ اُعِدَّتْ لِلْكٰفِرِيْنَ ﴿٢٤﴾ وَبَشِّرِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا
وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اَنَّ لَهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ؕ كُلَّمَا رُزِقُوْا مِنْهَا مِنْ ثَمَرَةٍ رِّزْقًا ۙ قَالُوْا
هٰذَا الَّذِيْ رُزِقْنَا مِنْ قَبْلُ ۙ وَاُتُوْا بِهٖ مُتَشَابِهًا ؕ وَلَهُمْ فِيْهَآ اَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ ۙ وَّهُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿٢٥﴾ اِنَّ اللّٰهَ
لَا يَسْتَحْيٖٓ اَنْ يَّضْرِبَ مَثَلًا مَّا بَعُوْضَةً فَمَا فَوْقَهَا ؕ فَاَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا فَيَعْلَمُوْنَ اَنَّهُ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّهِمْ ۚ

اوهیچرے به اونکړے شئے پس ځان بچ کړئے (په قبلولودَ توحید سره) دَ اورنه هغه چه خشاك دَ هغے خلق دی (مشرکان) او کانړی دی تیار کړے شوے دے دپاره (دَ عذاب) دَکافرانو(٢٤) او زیرے ورکړه هغه کسانوته چه ایمان ئے راوړے دے اوعملونه ئے کړی دی په طریقه دَ پیغمبر(ﷺ) چه یقیناً دَ دوی دپاره باغونه دی چه بهیږی لاندے دَ اونو دَ هغے نه ولے(ځلورقسمه) هر وخت چه ورکړے شی دویته دَ هغے نه څه میوه دپاره دَ خوراك وائی به دوی۔ داهغه څیزدے چه راکړے شوے دے مونږ ته دَدینه ړوانده او رابه وړیشی دویته دغه رزق یو شان اودپاره دَ دوی پدے جنتونو کښ ببیانے پاکے کړے شوے به وی او دوی به په جنتونو کښ همیشه وی (٢٥) یقیناً اللّٰه تعالیٰ شرم نه کوی (نه پریږدی بیان) دَ بیانولودَ مثال نه په ماشی سره پس زیات دَ ماشی نه پس هرچه هغه کسان دی چه ایمان ئے راوړے دے پس هغوئ پوهیږی چه دا (مثال) برابر دے دَ طرف دَ رب دَ دوی نه۔

اوحاضرناظر کنرل، دارنګ شهداء عالمانوته هم وائی، دارنګ شُهداء ګواهی ورکؤنکوته هم وائی۔

[٢٤]﴿وَلَنْ تَفْعَلُوْا﴾ دا مستقل اعجازدَ نبیﷺ او دَ قرآن دے ځکه چه دا پیشنګوئی تراوسه پورے رشتینے ده ﴿فَاتَّقُوا النَّارَ﴾ (ویره دَ عذاب دَ اخرت نه ورکوی) خشاك دَ هغے خلق دی یعنی دَ خشاك پشان به پکښ سوزی اومراد دَ هغے خلقونه کافران دی لکه په سورة آلعمران(١٠) کښ دی ﴿اَلْحِجَارَةُ﴾ هغه ګټے چه دوی دَ هغے نه معبودان جوړ کړی دی یا ئے په قبرونودَ برزګانو لګولے او ایښی دی اوځان پورے مخی اوښکلوی په نیت دَ تبرّك سره یا کانړی دَ ګوګړو مراد دی لپاره دَ تیزولو دَاور یا عام کانړی مراد دی ځکه چه عامے ګټے هم دَ دنیا په اورکښ نه سوزی دا خصوصیت دَ اوردَجهنم دے۔

[٢٥] دا زیرے دَ اخرت دے په ایمان اونیك عمل سره نیك عمل هغه دے چه په هغے باندے شرعی دلیل وی او دَ هغے دوه شرطونه دی دَ شرك او ریانه خالی اوپه طریقه دَ نبیﷺ سره وی ﴿هٰذَا الَّذِيْ﴾ یو تفسیردا دے چه دا بدله دَ هغه عملونوده چه توفیق ئے راکړے شویدے مونږ ته مخکښ په دُنیاکښ او رابه وړے شی دابدله مشابه دَ عمل سره اوغوره اومشهور دا ده چه په جنت کښ به هرکرت میوے دَ مخکے کرت سره مشابه وی په رنګ کښ او جدا جدا به وی مزه کښ نو په دے کښ اظهار دَ قدرت دَ اللّٰه تعالیٰ دے﴿اَزْوَاجٌ﴾ هغه ببیانے چه دَ خاوندانو سره پوره موافقت اوجوړخ لری دنیوی ببیانے اوحورے۔ ﴿مُطَهَّرَةٌ﴾ بدنونه اواخلاق به ئے دَ هرقسم ګندګئے اوقباحت نه پاك وی﴿خَالِدُوْنَ﴾ جنت اودَ هغے نعمتونه اوجنتیان به هیڅرے نه فناکیږی۔

وَاَمَّا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فَيَقُوْلُوْنَ مَاذَآ اَرَادَ اللّٰهُ بِهٰذَا مَثَلًا ۘ يُضِلُّ بِهٖ كَثِيْرًا ۙ وَّيَهْدِيْ بِهٖ كَثِيْرًا ۭ وَمَا يُضِلُّ بِهٖٓ اِلَّا الْفٰسِقِيْنَ ۝٢٦ الَّذِيْنَ يَنْقُضُوْنَ عَهْدَ اللّٰهِ مِنْۢ بَعْدِ مِيْثَاقِهٖ ۠ وَيَقْطَعُوْنَ مَآ اَمَرَ اللّٰهُ بِهٖٓ اَنْ يُّوْصَلَ وَيُفْسِدُوْنَ فِي الْاَرْضِ ۭ اُولٰۗىِٕكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ۝٢٧ كَيْفَ تَكْفُرُوْنَ بِاللّٰهِ وَكُنْتُمْ اَمْوَاتًا فَاَحْيَاكُمْ ۚ ثُمَّ

او هرچه هغه کسان دی چه کفر ئے کړے دے چه څه غوښتلی دی الله تعالیٰ په (بیان) دَ دے مثال سره ے لارے کوی په دے (مثال) سره ډیرخلق، او لار ښائی په دے (مثال) سره ډیرو خلقوته، اونه ے لارے کوی په دے (مثال) سره مګر نافرمان خلق (٢٦) دا هغه کسان دی چه ماتوی لوظ دَ الله تعالیٰ روستودَ پوښ والی دَ هغے نه۔ اوپرے کوی هغه څیزچه حکم کړے دے الله تعالیٰ په پیوست والی دَ هغے سره، اوروانے کوی دوی په دُنیا کښ، دغسے کسان خاص دوی (پوره) تاوانیان دی (٢٧) څنګه تاسو کفرکوئے په الله تعالیٰ باندے (په بندګئے دَ ماسوالله) اوحال داچه تاسو نیشت وئے پس ژوندی ئے کړئے تاسو بیا به

[٢٦] دا دَ اعتراض جواب دے په بیان دَ حکمت دَ مثال سره هرکله چه محکے په الذی استوقدنارا اوکصیب سره مثالونه ذکرشول نو دوی اعتراض اوکړو۔ اعتراض دا دے چه دے کتاب کښ دَ معمولی اوسپك څیزونو ذکراومثالونه دی نو معلومه شوه چه دا دَ الله تعالیٰ کتاب ندے ﴿لَا يَسْتَحْيٖ﴾ حیاء صفت دَ الله تعالیٰ ثبوتی دے لکه په حدیث سره ثابت دی او دلته دَ هغه صفت سلبیه خاصه دے ﴿بَعُوْضَةً﴾ نری ماشی ته ویلے شی ﴿فَمَا فَوْقَهَا﴾ زیات دَ ماشی نه په سپکوالی کښ لکه وزر دَ ماشی او زیات دَ ماشی نه په بدن کښ لکه مچ وغیره وزر دَ ماشی دَ دُنیا په مثال کښ په حدیث کښ ذکر دے ﴿يُضِلُّ بِهٖ﴾ ګمراه کول او هدا یت کول دَ الله تعالیٰ اختیار او قدرت دے او هغه دَ دے خالق دے دَ دے وجے نه هغه ته نسبت حقیقةً کولے شی او شیطان او نور اسبابوته سببی نسبت کیدے شی ﴿فٰسِقِيْنَ﴾ دَ دے نه مراد هغه کسان دی چه په نافرمانئ کښ پوره وی او هغه کافروی ۔ اشاره ده چه سبب دَ زیادت دَ ګمراهئ دَ دوی فِسق کامل دے حاصل دَ جواب دا دے چه په مثال کښ اول حکمت تمییز خودل دی په مینځ دَ مؤمن او دَ کافرکښ او دویم حکمت فرق دَ اثارو دے په مینځ دَ دواړه فریقو کښ۔

[٢٧] پدے ایت کښ بیان دَ صفاتودَ نافرمانو دے (چه اعتراض کوی په قرآن باندے) ﴿عَهْدَ اللّٰهِ﴾ لوظ دَ الله تعالیٰ په باره دَ توحید کښ دے او هغه ئے پوخ کړے دے په رسولانو اوکتابونو خپلوسره او دَ هغے ماتول کفر اوشرك اونفاق دے او دلته عهدئے مشابه کړے دے دَ رسئے سره چه په نقض(سپړدلو) سره هغه بے کاره شی ﴿اَنْ يُّوْصَلَ﴾ دَ دے نه مراد ټول رسولان اوټول کتابونه منل دی اوټول دین اسلام قبلول او دَ الله تعالیٰ ټول احکام او دَ رسول ټولے طریقے منل دی اوپه پوره اسلام کښ داخلیدل اوصله رحمی (خپلولی) پکښ داخل ده۔ څوك چه بعضِ منی اوبعضِ نه منی نو هغے وصل پریکوی ﴿مَآ اَمَرَ اللّٰهُ﴾ دلیل دے چه بعضِ خپلولی قطع کول پکار دی چه الله تعالیٰ په هغے ناراض وی دَ مشرك اوبدعتی سره قطع ضروری ده ﴿وَيُفْسِدُوْنَ﴾ مراد دَد ے نه په قرآن باندے اعتراض کول او دَ نبی ﷺ دَ تابعدارئ نه خلق منع کول دی۔ دا درے واړه ګناهونه جدا جدا صفات دَ مشرکانو کافرانو اومنافقانو دی یاهریوګناه چه دے نوپه هغے کښ دا درے واړه صفتونه جاری کیږی ﴿اُولٰۗىِٕكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ﴾ خسران نقصان او تاوان ته وئیلےشی هرهغه

يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ ثُمَّ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٢٨﴾ هُوَ الَّذِي خَلَقَ لَكُمْ مَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا ثُمَّ اسْتَوَىٰ إِلَى السَّمَاءِ
فَسَوَّاهُنَّ سَبْعَ سَمَاوَاتٍ ۚ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿٢٩﴾ وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَائِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةً ۖ
قَالُوا أَتَجْعَلُ فِيهَا مَنْ يُفْسِدُ فِيهَا وَيَسْفِكُ الدِّمَاءَ وَنَحْنُ نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَ ۖ قَالَ إِنِّي أَعْلَمُ

مړه کړی تاسو بیا به ژوندی کړی تاسو بیا به خاص اللّٰه تعالیٰ ته اوګرځولے شئے (۲۸) اللّٰه تعالیٰ خاص هغه ذات دے چه پیدا کړی دی ستاسو فائدے دپاره هغه څیزونه چه زمکه کښ دی ټول۔ بیا اراده اوکړه اللّٰه تعالیٰ اسمان ته، پس برابرئے جوړ کړل اووه اسمانونه، اوهغه اللّٰه تعالیٰ په هر څیز باندے پوهه دے (۲۹) اوکوم وخت چه اوویل رب ستا ملائکوته یقیناً څه جوړوم په زمکه کښ فیصلے کوونکے، اوویل دوی آیا جوړوے (خلیفه) په دے کښ هغه څوك چه روانے به کوی په دے کښ او توپه وی به وینے په ناحقه سره او مونږ پاکی وایوسرهٔ دَ ستائینے ستانه اویاد ؤوتاپه پاکئے سره (یاځان ساتودَ ګناه نه ستادَویرے دَ وجے نه) اوویل اللّٰه تعالیٰ یقیناً څه پوهیږم

څوك چه یوعمل اوکړی او په هغے سره ورته اجرنه ملاویګی نو دے ته خسران وئیلے شی او په آخرت کښ خسران هلاکت او تباهی ته وئیلے شی او دلته کامل تاوان مراد دے۔

[۲۸] دابل دلیل دے په مسئله دَ توحید باندے چه ﴿اعْبُدُوا رَبَّكُمُ﴾ ده اوذکرَ انعام دے دَ څلورو انعاماتو عامونه هغه داچه تاسو ټولوته حیاة (ژوند) اللّٰه تعالیٰ درکړے دے نو دَ هغه بندګی خاص کړئ۔ پدے ایت کښ دَ انسان څلورحالات ئے ذکرکړی دی دوه کرته مرګ او دوه کرته ژوند داسے په څم مؤمن (۱۱) کښ شته او دَمرګ نه مراد هغه حال دے چه انسان نطفه وه یعنی بے ساه ته وئیلے شی۔ دویم مرګ عام مرګ دے۔ اول ژوند دَ دُنیا ژوند دے دویم ژوند دَ اخرت دے دا دواړه حقیقی ژوندونه دی چه روح دَ بدن سره تعلق لری او برزخی ژوند هم په نورو دلیلونو دَ شرع سره ثابت دے لیکن په هغے کښ دَ روح تعلق دَ بدن سره نیشته نو هغه حقیقی ژوند نه دے له دے وجے نه پدے ایت کښ دَ هغے ذکر نیشته۔ اوچاچه په دے ایت کښ برزخی ژوند هم شمارکړے دے نو هغه قول ضعیف دے او تفسیر دَ دے آیت په سورة مؤمنون کښ (۱۲) نه تر(۱۶) پورے شته اوهرکله چه دَ قبر ژوند حقیقی ژوند نه دے نودَ مړی دپاره اوریدل اولیدل ثابت نه دی۔

[۲۹] دا ایت بل دلیل دے په توحید او قیامت باندے چه اللّٰه تعالیٰ واکدار دے اوپوهه دے په هرڅه باندے اودا ذکر دَدویم انعام دے چه دا ټول څیزونه ئے ستاسو فائدے دپاره پیداکړی دی۔ دَ اللّٰه تعالیٰ مخلوق دوه قسمه دے یو خالص خیراوبل هغه چه خیرئے ډیروی اوشرپکښ لږوی داسے څیزاللّٰه تعالیٰ ندے پیداکړے چه هغه خالص شروی یائے شرغالب وی په خیرباندے اګرچه مونږ دَ بعضِ څیزونوپه خیر باندے نه پوهیږو او دارنګ په هرڅه کښ دا فائِده شته چه دَ اللّٰه تعالیٰ په وجود اوپه توحید باندے دلالت کوی۔ دَ دے ایت نه او دَ څم سجده (۹) ایت نه ښکاره معلومیږی چه زمکه او دَ هغے څیزونه دَ اسمان نه وړاندے پیداکړی دی اودَ ایت دَ سورة نازعات (۳۰) نه دَ دے په عکس سره معلومیږی۔ مفسرینو ډیر جوابونه کړی دی غوره جواب دَ ابن عباس رضی اللّٰه عنهما نه بخاری نقل کړے دے چه پیدائش دَ زمکے اوتقدیرد څیزونو

مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۳۰﴾ وَعَلَّمَ اٰدَمَ الْاَسْمَآءَ كُلَّهَا ثُمَّ عَرَضَهُمْ عَلَى الْمَلٰٓئِكَةِ ۙ فَقَالَ اَنْۢبِـُٔوْنِيْ بِاَسْمَآءِ هٰٓؤُلَآءِ اِنْ كُنْتُمْ
صٰدِقِيْنَ ﴿۳۱﴾ قَالُوْا سُبْحٰنَكَ لَا عِلْمَ لَنَآ اِلَّا مَا عَلَّمْتَنَا ۭ اِنَّكَ اَنْتَ الْعَلِيْمُ الْحَكِيْمُ ﴿۳۲﴾ قَالَ يٰٓاٰدَمُ اَنْۢبِئْهُمْ بِاَسْمَآئِهِمْ ۚ

په هغه څه چه تاسو په هغې نه پوهیږئ (۳۰)اواوخودل ئې (په فطری طریقه) آدم(علیه السلام) ته نومونه سره دَ فائدونه دَ ټولوڅیزونوبیائې ورانده کړل دغه څیزونه ملائکوته، پس اوویل اللّٰه تعالیٰ خبر راکړئے ماته په نومونو(او فائدو) دَ دے څیزونوکه ئے تاسو رشتینی (۳۱) اوویل دوئ: پاکی ده تاله (دَشریك دَ علم نه) نیشته هیڅ پوهه مونږ له مګر دومره چه تاپوهه راکړیده مونږته یقیناً صرف ته په هرڅه پوهه ئے اوپوخ کار والا ئے (۳۲) اوویل اللّٰه تعالیٰ: اے آدم(علیه السلام) خبر ورکړه دوی ته په نومونو (اوفائدو) دَ دے څیزونو،

مخکے دے په پیدائش دَ اسمانونو باندے اوغورول دَ زمکے دَ پیدائش دَ اسمانونونه روستودی اوبل جواب دا دے چه سورة نازعات کښ بَعْدُ په معنیٰ دَ مع دے په معنیٰ دَ روستووالی نه دے۔ واللّٰه اعلم بالصواب۔

[۳۰] دا دلیل دے په دے باندے چه ملائك په هر څه علم نه لری نو هغوی دَ بندګئی لائق نه دی اوداذکر دَ دریم انعام دے چه اللّٰه تعالیٰ ستاسو پلار آدم(علیه السلام) ته عزت ورکړو په خلیفه کولو سره۔ اللّٰه تعالیٰ ملائکوته داخبر ورکړو دَپاره دَ لوئے شان دَ آدم(علیه السلام)۔ خلیفه نه مراد حاکم دے یا روستو راتلونکے دَ پیریانونه دَ اللّٰه تعالیٰ نائب نشی کیدے نائب معنیٰ کول غلط ده ﴿وَاِذْقَالَ رَبُّكَ﴾ هرکله چه دَ زمکے څیزونه دَ فائدودپاره وؤ اوس ذکرکوی چه دَ هغے نه دَ فائِدو اغستلو دَپاره دَ بنی آدمو خلافت پکار دے اودَ دغه خلافت دَپاره دَ څیزونو دَ زمکے دَ نومونو او دَ فائدو علم ضروری دے ﴿قَالُوْٓا اَتَجْعَلُ فِيْهَا﴾ دا تپوس دَپاره دَ حکمت طلب کولو دے په خلیفه جوړولودَ آدم(علیه السلام) کښ ﴿مَنْ يُّفْسِدُ فِيْهَا﴾ دا علم ملائکوته اللّٰه تعالیٰ ورکړے وؤ یا دَ لفظ دَ خلیفه نه ئے استنباط اوکړو ﴿نَحْنُ نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ﴾ تسبیح دَ اللّٰه تعالیٰ پاکوالے دَ هغه دے دَ نقصاناتو نه چه دَ الوهیت سره منافی دی او دَ اللّٰه تعالیٰ صفات سلبیه ته اشاره ده اوحمد صفاتو ثبوتیو(دَخدائیتوب) ته اشاره ده او ﴿نُقَدِّسُ﴾ په دے کښ عظمت دَ ذات دَ اللّٰه تعالیٰ مراد دے یا عصمت دَ ملائکو دَ ګناهونو نه مراد دے۔

[۳۱] اسماء نه مراد نومونه دی سرهٔ دَ منافعو دَ هغے نه او دَ ټولونه مراد هغه څیزونه دی چه دَ انسان دَ ضروریاتو دَژوند سره تعلق لری اودَ خلافت چلولوسره تعلق لری ﴿وَعَلَّمَ﴾ تعلیم دَاللّٰه تعالیٰ انبیاء علیهم السلام ته په طریقودَ وحی سره وی اودارنګ تعلیم استعدادی ئے په هغه کښ پیداکړو ﴿كُلَّهَا﴾ دیته کل دَ استغراق عرفی وئیلے شی هرڅیزاوهر ذره ذره پکښ داخل نه دی ﴿صٰدِقِيْنَ﴾ دلته صدق په مقابل دَ خطا کښ دے په مقابله دَدروغو کښ نه دے۔

[۳۲] دا دلیل نقلی دے دَ ملائکونه چه دوی په هرڅه نه پوهیږی۔ نو علم غیب دَ هغوی نه نفی دے لفظ دَ سبحانك هم کلمه دَ توحید ده۔

فَلَمَّآ اَنْۢبَاَهُمْ بِاَسْمَآىِٕهِمْ ۙ قَالَ اَلَمْ اَقُلْ لَّكُمْ اِنِّيْٓ اَعْلَمُ غَيْبَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۙ وَاَعْلَمُ مَا تُبْدُوْنَ وَمَا كُنْتُمْ
تَكْتُمُوْنَ ﴿٣٣﴾ وَاِذْ قُلْنَا لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوْا لِاٰدَمَ فَسَجَدُوْٓا اِلَّآ اِبْلِيْسَ ؕ اَبٰى وَاسْتَكْبَرَ ۫ وَكَانَ مِنَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿٣٤﴾ وَقُلْنَا
يٰٓاٰدَمُ اسْكُنْ اَنْتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ وَكُلَا مِنْهَا رَغَدًا حَيْثُ شِئْتُمَا ۪ وَلَا تَقْرَبَا هٰذِهِ الشَّجَرَةَ فَتَكُوْنَا مِنَ

پس هرکله چه خبرئے ورکړو هغوی ته په نومونو(اوفائدو) دَهغه څیزونو اوویل اللّه تعالیٰ:ایانه وو ویلی ماتاسوته چه یقیناً څه پوهیږم په پټوڅیزونودَ آسمانونو اودَ زمکے، او څه پوهیږم په هغه څه چه تاسو بنکاره کوئے اوپه هغه څه چه تاسو ئے پټوئے (۳۳) اوکوم وخت چه اوویل مونږ ملائکوته سجده دَ تعظیم (په سرخکته کولوسره) اوکړئے آدم(علیه السلام) ته پس سجده اوکړه ټولومګر ابلیس انکار اوکړو اوځان ئے لوئے اوګنړو او وو دے دَکافرانونه (۳٤) اوویل مونږ: اے آدم(علیه السلام) اوسه ته او بی بی ستا په جنت کښ اوخورئے دواړه دَ دے نه پرے مانه هر ځائے چه خوښه شی ستاسو، او نزدے مه ورځے دے ونے ته (قصداً) پس شئے به تاسو (که نزدے شوئے په قصد) دَ

[۳۳] مقصد په دے انباء کښ دا دے چه ملائکوته معلومه شی چه آدم علیه السلام سره علم دَ دغه څیزونو شته دے ﴿اَلَمْ اَقُلْ لَّكُمْ﴾ په قصه کښ لوئے مقصد اثبات دَ علم غیب اوعلم دَ هرځیز دے دَ اللّه تعالیٰ دَپاره۔

[۳٤] دا دویمه قصه ده اودا دَ قرآن کریم په اووه سورتونوکښ دَ جدا جدا حکمتونو دَپاره ذکرده دلته کښ یومقصدپکښ څلورم انعام په انسانانو ذکرکوی چه اللّه تعالیٰ په آدم علیه السلام انعام دَ سجود ملائکه او دَ جنت دَ اوسیدلو او دَابتلاء شرعی او زمکے ته راکوزیدل دَپاره دَ دے چه نظام تکوینی اوشرعی وربانده مرتب شی اوتعلیم دَتوبے ورکولو اوکړو دا انعامات دی په ټول اولاد آدم علیه السلام باندے ﴿اسْجُدُوْا﴾ مراد دَ سجدے نه سجده دَ تعظیم ده په سر خکته کولو سره په طریقه دَ سلام او احترام سره او داسے سرکوزول په طریقه دَتعظیم مخلوق ته په دے ایت کښ منسوخ دی دا ابن کثیراو نور مفسرینو لیکلی دی ﴿وَاسْتَكْبَرَ﴾ تکبر دے ته وائی چه دَ حق منلونه په ضد سره انکار کوی اوحق والوته سپك ګوری او استکبار دا چه تکبرکوی بغیر دَ استحقاق نه اوهرچه تکبر دے نو کله په استحقاق سره وی لکه په صفت دَ اللّه تعالیٰ کښ اوکله بغیرد حق نه لکه په صفت دَ بندګانوکښ دلته دَابلیس استثناء منقطع ده ځکه چه هغه دَ جنس دَ ملائکونه نه وؤ بلکه دَ جنس دَ پیریانونه وؤ اودَ هغه امر په سورة اعراف(۱۲) کښ ذکردے اودلته دَ ابلیس څلورحالات ذکرشول سجده نه کول، انکارکول دَ فرضیت دَسجدے نه، استکبارکول چه داعلت دے دَپاره دَ انکار، دَکافرانوسره شاملیدل ﴿وَكَانَ مِنَ الْكٰفِرِيْنَ﴾ دَ دے دوه معانے دی اوله معنیٰ داچه وو دَ کافرانونه په علم دَ اللّه تعالیٰ کښ لیکن ملائکوسره اوسیدل دَ دهٔ کرامت نه وؤ بلکه استدراج وو۔ دویمه معنیٰ دَ کافرانونه اوګرزیدلو توبه ئے اونه کړله۔

الظّٰلِمِيْنَ ﴿٣٥﴾ فَاَزَلَّهُمَا الشَّيْطٰنُ عَنْهَا فَاَخْرَجَهُمَا مِمَّا كَانَا فِيْهِ ۠ وَقُلْنَا اهْبِطُوْا بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ ۚ وَلَكُمْ
فِى الْاَرْضِ مُسْتَقَرٌّ وَّمَتَاعٌ اِلٰى حِيْنٍ ﴿٣٦﴾ فَتَلَقّٰٓى اٰدَمُ مِنْ رَّبِّهٖ كَلِمٰتٍ فَتَابَ عَلَيْهِ ۭ اِنَّهٗ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ ﴿٣٧﴾

ګنهګارونه (۳۵) پس اوخوبه ول دا دواړه شیطان دَ هغه ونې په وجه، پس اوویستل ئې دواړه دَ هغه ځائې نه چه دوی ژوپه هغې کښ اوویل مونږ: کوزشئ بعضِ ستاسو به دَ بعضو دپاره دُ شمنان وی اوستاسو دپاره په زمکه کښ ځائے دَ اوسیدلو دے اونفع ده تریو وخت پورے (۳۶) پس زده کړے آدم(علیه السلام) دَ رب خپل نه یوځوکلمے پس رحم ئے را اوکړځوویه هغه باندے یقیناً خاص اللّٰه تعالیٰ دِیرتوبه قبلوونکے مهربان دے (۳۷)

[۳۵] په ګناه کښ قصد کول شرط دے اوآدم(علیه السلام)کارپه هیره باندے کړے وؤلکه سورة طٰهٰ (۱۱۵) کښ دی نوهغه ګنهګارنه دے او دَ اهل سنت والجماعت عقیده دا ده چه پیغمبران علیهم السلام دَ وړو اولویو ګناهونونه پاك دی دَ نبوت نه وړاندے او روستوپه نیز دَاکثراهل علموپه دے آیت کښ انعاماتِ خاصه ذکردی جنت کښ اوسول او فراخه خوراك ورکول او ابتلاء په شجره سره ﴿وَزَوْجُكَ﴾ ویلے شویدی چه دَجنت دَ داخلولونه وړاندے دَ آدم(علیه السلام)دَکسے پخپلے نه اللّٰه تعالیٰ حواء علیها السلام پیداکړه اوورسره ئے جنت ته داخله کړله جنت نه مراد هغه دار الثواب دے چه اللّٰه تعالیٰ دَ مؤمنانو دپاره ځائے دَ ثواب کرزځولے دے داغوره قول دے ﴿رَغَدًا﴾ په دے کښ وسعت دَ خوراك ته اشاره ده او ﴿حَيْثُ شِئْتُمَا﴾ فراخی دَ مکان او زمان ته اشاره ده، ﴿وَلَا تَقْرَبَا هٰذِهِ الشَّجَرَةَ﴾ منع دَ نزدیکت نه دَپاره دَ تاکید ده لکه په لاتقربوالزنا، کښ او دَ دے او نے تعین په قرآن اوحدیث صحیح مرفوع کښ نیشته دَ دے وجے نه دَ دے په باره کښ یقینی فیصله نشی کیدلے او دا نهی دَ تحریم دَپاره ده یا دَ تنزیه (خلاف اولیٰ) دَپاره ده ﴿فَتَكُوْنَا مِنَ الظّٰلِمِيْنَ﴾ په لغت کښ ظلم نقصان ته ویلے شی اوکله کله زیاتی ته هم ویلے شی اوپه عرف کښ یوځیز بے ځایه استعمالولوته ظلم ویلے شی شریعت کښ دَ دے اطلاق په اجتهادی خطائے اوخلاف اولیٰ اوګناه صغیره اوګناه کبیره اوکفراوشرك باندے کیږی۔ دلته معنیٰ دا ده چه په قصد سره دے اونے ته مه نزدے کیږئ اوکه په قصد سره نزدے شوئے نو ګنهګار به شئ لیکن دی خوپه هیره یا په اجتهادی خطائے هغه خوړلے ده۔

[۳۶] په دے آیت کښ دَ راکوځید لوتکوینی غایه ئے بیان شویده چه هغه دَ کورنئی دُشمنی او دَ ځمکے فائدے ترفناکیدلو پورے دی ﴿فَاَزَلَّهُمَا﴾ زلت خویدلونه وائی اوخویدل بے اختیاره وی په هغې کښ ګناه نه وی ﴿الشَّيْطٰنُ﴾ شیطان ته نسبت دَ هغه دَ وسوسے دَ وجے نه دے چه په سورة اعراف (۲۰) کښ ذکرده۔ ﴿مِمَّا كَانَا فِيْهِ﴾ مراد دَ دے نعمتونه اولذتونه دَ جنت دی ﴿اهْبِطُوْا﴾ دا خطاب آدم اوحواء علیهما السلام ته دے اولادئے تابع دی۔

[۳۷]هغه کلمات سورة اعراف(۲۳)کښ ذکردی۔اوخوك چه وائی چه آدم(علیه السلام) په وسیله دَ اخری نبی یا دَ پنجتن دُعاکړے وه نوهغه حدیث موضوعی دے۔ ذهبی دَ مستدرك په تعلیق ص:۶۱۵،ج:۱ اوابن کثیرپه البدایه ص:۷۵، ج:۱ کښ وئیلی دی چه دا ضعیف دے۔

قُلْنَا اهْبِطُوْا مِنْهَا جَمِيْعًا ۚ فَاِمَّا يَاْتِيَنَّكُمْ مِّنِّيْ هُدًى فَمَنْ تَبِعَ هُدَايَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿٣٨﴾
وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَآ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿٣٩﴾ يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اذْكُرُوْا نِعْمَتِيَ
الَّتِيْٓ اَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ وَاَوْفُوْا بِعَهْدِيْٓ اُوْفِ بِعَهْدِكُمْ ۚ وَاِيَّايَ فَارْهَبُوْنِ ﴿٤٠﴾ وَاٰمِنُوْا بِمَآ اَنْزَلْتُ مُصَدِّقًا لِّمَا

اوویل مونږ: چه کوز شئے دَ دے نه ټول، پس که راشی تاسوته ځما دَ طرف نه لارخودونکے (کتاب او رسول) پس چاچه تابعداری اوکړه دَ هدایت ځما پس نه به وی هیڅ یره په هغوی باندے اونه به دوی غمژن کیږی (۳۸) او هغه کسان چه کفرئے کړے دے (په زړه) او دروغژن کوی (په ژبه) ایاتونه ځمونږ داسے کسان دوزخ والادی، دوی به په هغے کښ همیشه وی (۳۹)اے اولاد دَ یعقوب(علیه السلام) (بنده دَ اللّٰه تعالیٰ) یاد کړئے (په شکرکولوسره) نعمت ځما هغه چه ما انعام کړے دے په تاسوباندے، او پوره کوئے لوظ ځما (ستاسوسره) ځه به پوره کوم لوظ ستاسو، اوخاص ځما نه پس ویره اوکړئے (په احکامومنلوسره) (٤٠) او ایمان راوړئے په هغه کتاب چه نازل کړیدے ما چه رشتنی کوونکے دے دَ هغه کتابونو

[۳۸]﴿اِهْبِطُوْا﴾ دا اهباط او مخکښے یوځیز دے صرف دَ دویمے فائدے ذکرکولو دپاره ئے دوباره راوړے دے۔ نه به وی هیڅ ویره په دوی باندے دَ فوت کیدلو دَ نعمتونونه اونه به دوی غم کوی په دُنیا پسے او دا حالت صرف په جنت کښ دے۔ دوباره هبوط ئے ذکر کړو دپاره دَغایه تشریعی چه هغه کتابونه او رسولان رالیږل دی ﴿مِنِّيْ هُدًى﴾ اشاره ده چه هدایت هغه دے چه وحی سره ثابت وی دا نه ده چه په خپل عقل سره جوړ کړے وی۔

[۳۹] داویره اُخروی ده نه منونکوته ﴿كَفَرُوْا﴾ کفرانکارکول دی په زړه کښ اوتکذیب انکارکول دی په ژبے سره ﴿اَصْحٰبُ النَّارِ﴾ اصحاب جمع دَ صاحب ده چه همیشه ملګرے اولازم وی نوچه په طریقه دَځو کیدارئے کولو دی لکه ملائك په جهنم باندے مقرردی سورة مدثر (۳۱) او انسانان اوپیریان چه همیشه په جهنم کښ دی هغه کافران مشرکان دی۔

[٤٠] باب دریم دَ دے ځائے نه تر٤٨پورے دے په دے کښ خاص خطاب دے روستو دَ عام خطاب نه په دے کښ نهه اوامر اوپنځه نواهی دی۔ درے ناکاره صفات دی چه دَ هغے نه منع کوی ځکه چه په هغے سره دین بربادیږی (۱) اشتراء په ایاتونومه کوئے (۲) تلبیس اوکتمان مه کوئے (۳) اوعمل مه پریږدئ۔ اودرے خائسته صفات دی چه په هغے دَ دین پوخوالے راځی۔ (۱) استعانت په صبر(۲) مونځ کول(۳) ایمان په اخرت ۔ اوبیا ترغیب اوتخویف اُخروی ذکردے ﴿يٰبَنِيْٓ اِسْرَآئِيْلَ﴾ دالقب دے دَ یعقوب(علیه السلام) او معنیٰ ئے عبداللّٰه ده نومقصد دا چه اے اولاد دَ هغه چاچه دَ اللّٰه تعالیٰ دَپاره ئے عبادت خاص کوؤ(په اعبدوا) باندے عمل کوؤ اوپه دے سره ئے اولاد ته وصیت کړے وو﴿اذْكُرُوْا﴾ مراد دَ ذکرنه په زړه کښ یاد داشت دے یعنی غفلت نه کول اوشکرکول دی ﴿نِعْمَتِيَ﴾ دا مفردپه معنیٰ دَ جنس دے هغه خاص نعمتونه چه روستوئے ذکرکړی دی هغه دَ دوی په مشرانوباندے وؤاونعمتونه په مشرانوباندے دا دَهغوی په کشرانوباندے هم وی ﴿وَاَوْفُوْا بِعَهْدِيْٓ﴾ مراد ترینه هغه عهود دی چه په تورات کښ ذکروؤاوپه دے

مَعَكُمْ وَلَا تَكُوْنُوْٓا اَوَّلَ كَافِرٍۭ بِهٖ ۪ وَلَا تَشْتَرُوْا بِاٰيٰتِيْ ثَمَنًا قَلِيْلًا ۫ وَّاِيَّايَ فَاتَّقُوْنِ ﴿٤١﴾ وَلَا تَلْبِسُوا الْحَقَّ
بِالْبَاطِلِ وَتَكْتُمُوا الْحَقَّ وَاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿٤٢﴾ وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ وَارْكَعُوْا مَعَ الرّٰكِعِيْنَ ﴿٤٣﴾ اَتَاْمُرُوْنَ

چه تاسره دی، اومه کیږئ اول انکار کوونکی دَ دینه، اومه اخلئ په اياتونوځما قیمت لږ، اوخاص ځمانه پس اوویریږئ (په ځان بچ کولوسره دَ حرامونه) (٤١) اومه ګډوئ کوئ حق (په خلقوباندے) په سبب دَ باطل سره او (مه) پټوئ حق لره او (حال دا) چه تاسو پوهیږ ئ (٤٢) او پابندی کوئ دَ مانځه او ورکوئ زکوٰة او رکوع کوئ سره دَ رکوع کوونکونه (٤٣) اياحکم کوئ تاسو

سورة کښ دَهغے ذکر دے په (٨٤،٨٣،٦٣) کښ ﴿اُوْفِ بِعَهْدِكُمْ﴾ دَ دے دواړو عهدونو ذکرپه مائده (١٢) کښ دے ﴿فَارْهَبُوْنِ﴾ رهبت ویره کول دی سره دَ ځان بچ کولونه اوپه اصطلاح دَ بنی اسرائیلو کښ تقویٰ ته رهبت ویلے کیدلو۔

[٤١] په دے آیت کښ دوه اوامردی او دوه منهیات ذکردی اول امر﴿اٰمِنُوْا بِمَآ اَنْزَلْتُ﴾ دعوت دے ایمان ته په قرآن اوسنت باندے ﴿وَلَا تَكُوْنُوْٓا اَوَّلَ كَافِرٍۭ بِهٖ﴾ دا منع ده دَمنافی دَ ایمان نه چه کفردے اول ئے ورته ځکه اُویل چه دوی (کتابیان) کفر اوکړی نو ورپسے دَ دوی تابعداران هم کفرکوی نو دوی به اول شی یا کفر په معنیٰ دَ پټولو سره دے۔ دَ عمر﷜ نه روایت دے چه بنی اسرائیل تیرشوی دی او دا اياتونه تاسو اورئے یعنی پدے کښ دے اُمت ته هم خطاب دے﴿وَلَا تَشْتَرُوْا﴾ دا دَ دویم منافی دَ ایمان نه منع کول دی ﴿بِاٰيٰتِيْ﴾ مراد دے نه احکام دَ اللّٰه تعالیٰ دی یامراد دَ دے تفسیر(بدلول) کفرکول، پټول، تحریف کول، عمل پریخودل دَ آیاتونودی نودَ دے مراد دا دے چه په اياتونو دَ توحید باندے یا رسالت باندے یا په نورو احکامو باندے ایمان اوعمل دَ دے وجے نه پریږدی چه دَهٔ ته دَ دُنیا مال یا جاه اومرتبه ملاویږی۔ دارنګ دَ دے مراد دا دے چه په بدل دَ تلاوت دَ آیاتونو کښ مالی عوض اخلی یا خوراك څښتاك کوی هغه تلاوت چه مقصد پکښ ثواب وی نوپدے سره دَ اخرت بدله بربادیږی اوهرچه دم کول اوتعلیم دے نوپه احادیثو صحیحو سره په هغے باندے اجرت اغستل جائزدی ﴿ثَمَنًا قَلِيْلًا﴾ دَ لږ قیمت نه مراد ټوله دُنیا ده ځکه چه دُنیا ومافیها دَ دین اوآخرت په مقابله کښ هیڅ نه دی۔داسے په سورة نساء (٧٧) اوسورة توبه (٣٨) کښ دی ﴿وَاِيَّايَ فَاتَّقُوْنِ﴾ دلته ئے منهیات ذکر کړل نودَ هغے سره ذکر دَ تقویٰ مناسب دے۔

[٤٢] په دے آیت کښ دوه مناهی ذکرکوی په مخکښ آیت کښ هغه منهیات ووچه سبب دے دَګمراهئی په خپله دلته هغه ذکرکوی چه نورخلق ګمراه کوی۔ مګرعلم والاګمراه کوی په تلبیس سره اوخالص امیان ګمراه کوی په کتمان سره ﴿بِالْبَاطِلِ﴾ یعنی غیرحق الفاظ دَحق سره یوځائے کوی لکه شیعګانوپه ډیرو آیاتونو کښ دَځان نه الفاظ کیخودلی دی یا بالباطل نه غلط تاویلونه او اچول دَ شبهاتودی په حق باندے لکه چه ډیرجامد مقلدینودَ صحیح احادیثو تاویلات بعیده کړی دی او معتزله جهمیه اوبعض ماتریدیه اشاعره دَ صفاتودَ آیاتونوتاویلات کوی ﴿وَاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ﴾ دا لفظ دَ ډیرے زورنے دپاره دے چه سرهٔ دَ علم نه حق پټه وی یا په دے سره احترازکوی دَ هغه مجتهد امام چه بعضِ مسئله کښ په هغه باندے حق پټ پاتے شویو[illegible] کتمان حق دے خو بغیردَ علم نه نوګناه نه دے۔

النَّاسَ بِالْبِرِّ وَتَنْسَوْنَ اَنْفُسَكُمْ وَاَنْتُمْ تَتْلُوْنَ الْكِتٰبَ ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿٤٤﴾ وَاسْتَعِيْنُوْا بِالصَّبْرِ وَ
الصَّلٰوةِ ؕ وَاِنَّهَا لَكَبِيْرَةٌ اِلَّا عَلَى الْخٰشِعِيْنَ ﴿٤٥﴾ الَّذِيْنَ يَظُنُّوْنَ اَنَّهُمْ مُّلٰقُوْا رَبِّهِمْ وَاَنَّهُمْ اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ ﴿٤٦﴾ ع

خلقوته په نیکئ سره او هیروئے تاسو ځانونه خپل (اوحال دا) چه لولے تاسو کتاب آیا پس عقل نه لرئے تاسو(٤٤) اومدد حاصل کړئے په صبر کولواو مونځ کولوسره، اویقیناً داکارځامخا ګران دے مګر په عاجزی کوونکو باندے (٤٥) هغه کسان دی چه یقین کوی چه بے شکه دوی به مخامخ کیږی دَ رب خپل سره اویقیناً دوی خاص هغه ته ورګرځیدونکی دی (٤٦)

[٤٣] دا امورمقومّه (کلکوونکی) اومکمله دَایمان دی دلیل دے چه دا عملونه په دین دَ بنی اسرائیلو کښ هم فرض وژ ﴿مَعَ الرّٰكِعِيْنَ﴾ کښ مراد دا چه جماعت دَصحابوسره ملګری شئے په تابعدارئے کولواومحبت کولوسره اوذکردَ رکوع مراد ترینه ټول مونځ دے۔ اوتخصیص دَ رکوع ئے په دے وجے سره کړے دے چه بنی اسرائیلوپه دے کښ سستی کوله او دائے برباده کړے وه۔

[٤٤] په دے آیت کښ زورنه ده په عمل نه کولوسره دَعلم نه ﴿بِالْبِرِّ﴾ هره نیکئ ته شامل دے اوتفسیرئے په دے سورة (١٧٧، ١٨٩) اوسورة آلعمران (٩٢) کښ ذکر دے ﴿وَتَنْسَوْنَ﴾ مراد دَ دے په قصد سره پریخودل دی دَ دے آیت نه معلومه شوه چه کوم عالم په خپل علم باندے عمل نه کوی نوهغه بے عقله وی۔

[٤٥] په دے آیت کښ یوامرذکر دے اومراد دَ دے چه په نیرشوی اوامرو اونواهیو باندے عمل کول سخت دی لیکن په هغے باندے دَعمل کولودَپاره په صبراوصلوٰة سره ځان پخول پکاردی نودَ استعانت په صبر اوصلاة نه مراد دا دے چه عمل دَ صبر اومونځ کوئ پدے سره به په ایمان اودَ هغی په اعمالو باندے مضبوطوالے حاصل شی۔ دُعاپه وسیله دَ صبر اوصلوٰة دلته مراد نه ده اګرچه جائزده۔ صبرخپل نفس په پخول دی په مصیبتونو تکوینی او تشریعی باندے اونفس منع کول دی دَ خواهشاتونه نودَ صبردے قسمونه دی صبرپه مصیبتونو۔ صبرپه طاعاتواو صبردَ حرامونه ﴿وَاِنَّهَا لَكَبِيْرَةٌ﴾ هاضمیر راجع دے استعانت دَ صبر اوصلوٰة ته یا صرف صلوٰة ته ﴿الْخَاشِعِيْنَ﴾ خشوع عاجزی او ویره دَ زړه ده چه دَ هغے آثار په اندامونو باندے ښکاره شی او داپه مونځ کښ فرض ده اګرچه یوساعت وی۔

[٤٦] دا ایت دلیل دے په دے باندے چه اخرت باندے یقین کول سبب دَ خشوع دے او خشوع داسے صفت دے چه په هغے سره ټول عبادتونه اسانیږی ﴿يَظُنُّوْنَ﴾ دلته ظن په معنیٰ دَ یقین دے او ﴿مُّلٰقُوْا رَبِّهِمْ﴾ نه مراد اللّٰه تعالیٰ ته پیش کیدل دی دَپاره دَ حساب اوجزا یاظن نه مراد امید دے او ملاقوا اللّٰه نه مراد دیدن دَ اللّٰه تعالیٰ دے په جنت کښ۔

يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اذْكُرُوْا نِعْمَتِيَ الَّتِيْٓ اَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ وَاَنِّيْ فَضَّلْتُكُمْ عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴿٤٧﴾ وَاتَّقُوْا يَوْمًا لَّا تَجْزِيْ
نَفْسٌ عَنْ نَّفْسٍ شَيْـًٔا وَّلَا يُقْبَلُ مِنْهَا شَفَاعَةٌ وَّلَا يُؤْخَذُ مِنْهَا عَدْلٌ وَّلَا هُمْ يُنْصَرُوْنَ ﴿٤٨﴾ وَاِذْ نَجَّيْنٰكُمْ
مِّنْ اٰلِ فِرْعَوْنَ يَسُوْمُوْنَكُمْ سُوْٓءَ الْعَذَابِ يُذَبِّحُوْنَ اَبْنَآءَكُمْ وَيَسْتَحْيُوْنَ نِسَآءَكُمْ ۭ وَفِيْ ذٰلِكُمْ بَلَآءٌ مِّنْ

اے اولاد دَ یعقوب(علیه السلام) یاد کړئ (په شکرسره) نعمت ځما هغه چه ماانعام کړے دے په تاسوباندے اویقیناً غوره والے درکړے دے ما تاسوته په ټول عالم باندے (٤٧) اواوویریږئ دَ عذاب دَ هغه روځے نه چه بدله نشی ورکولے هیڅ نفس (بے جرمه) دَ بل نفس مجرم نه دَ څه شی اونه به قبلیږی دَ هغه نفس (اول نه) سفارش کول اونه به اغستے کیږی دَ هغه نه بدله (مالی) اونه به دوی سره امداد کیدے شی (٤٨) اوکوم وخت چه بچ کړئ مونږتاسو دَ فرعونیانونه در رسوَلُ ئیے تاسوته بد عذابو نه حلالول ئے ځامن (پیداکیدونکی) ستاسو او ژوندئ پریخودلے (دَ بے حیاکولو دپاره) زنانه ستاسو او پلے (نجات درکولو کښ) انعام ؤو ستاسودَ

[٤٧] دَ فضیلت وجه دا ده چه اللّٰه تعالیٰ دوی ته توحید او ایمان ورکړے وؤ(اعبدواربکم) مسئله ئیے منله اوپه دوی کښ ئیے رسولان رالیږل هغه وخت په بل قوم کښ دا دواړه صفتونه نوؤ۔ نو دوی په ټول عالم غوره وؤ داصفتونه په دے اُمت کښ هم شته دے نو بنی اسرائیل په دوی باندے غوره نه دی په دے ایت کښ ترغیب دے چه اوس هم اُعبدُوارَبَّکُم، مسئله اومنئ نو اللّٰه تعالیٰ به نعمتونه درکړی اوغوره والے به درکړی۔

[٤٨] په دے ایت کښ دَ اخرت دَعذاب نه ویره ورکول دی چه په دُنیاکښ مجرم کس په یودَ دے څلوروطریقوسره خَلاصے مومی لیکن په قیامت کښ پدے څلوروطریقوسره خلاصے نه ملاویږی ترڅوپورے چه توحید ئیے نه وی منلے ﴿لَاتَجْزِیْ﴾ کافی کیدل دَ بل چاپه ځائے یا دفع کول دَ عذاب یا فائده ورکول مراد دی دا اوله طریقه ده ﴿شَفَاعَةٌ﴾ دپاره دَ مؤمنانوپه اذن دَ اللّٰه تعالیٰ سره حق دے لیکن دلته بحث دَکافرانودے دا دویمه طریقه ده ﴿وَلَایُؤْخَذُ﴾ جرم اداکول دریمه طریقه ده ﴿وَلَاهُمْ یُنْصَرُوْنَ﴾ په زورسره خلاصول څلورمه طریقه ده۔

رَّبِّكُمْ عَظِيمٌ ﴿٤٩﴾ وَإِذْ فَرَقْنَا بِكُمُ الْبَحْرَ فَأَنجَيْنَاكُمْ وَأَغْرَقْنَا آلَ فِرْعَوْنَ وَأَنتُمْ تَنظُرُونَ ﴿٥٠﴾ وَإِذْ وَاعَدْنَا
مُوسَىٰ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً ثُمَّ اتَّخَذْتُمُ الْعِجْلَ مِن بَعْدِهِ وَأَنتُمْ ظَالِمُونَ ﴿٥١﴾ ثُمَّ عَفَوْنَا عَنكُم مِّن بَعْدِ

رب دَ طرف نه لوئے (٤٩) او کوم وخت چه اوچؤو مونږستاسودَ بچ کولودپاره دریاب پس بچ کړئے مونږتاسو اوغرق کړل مونږ فرعونیان اوتاسو هغوی ته کتل (٥٠)او کوم وخت چه وعده او کړه مونږدَ موسیٰ(علیه السلام) سره دَ څلویښت شپویا اونیووتاسوسخے (په خدائے سره) روستودَ تللودَ موسیٰ(علیه السلام) نه اوتاسو ظلم کوونکی وئے (په شرك سره) (٥١) بیا معافی اوکړه مونږ تاسوته روستو دَ

[٤٩] باب څلورم دَ دے ځائے نه تر(٩٦) پورے دے پلے کښ شپږقسمه دَ خطاباتودَ بنی اسرائیلو نه دی چه په هغے کښ په دوی باندے دَ انعاماتودَ ذکردے دپاره دَ دے چه اولاد دَ هغوی مسئله دَ توحید اومنی اوذکر دَ خباثاتو دَ هغوی دے دَ دے دپاره چه عام عرب اوامتیان دَ هغوی دَتابعداریٔ نه ځان بچ کړی اودا خبائث سبب دَ انتقال دَ خلافت اونبوت دے دَ دوی نه بنی اسماعیلوته۔ بیا دَ دے ایت نه تر(٦٢)پورے اول خطاب دے چه په هغے کښ اته انعامات او دوه عذابونه ذکرشوی دی او اخری ایت تتمه ده په ترغیب سره۔ اول انعام نجات دَ فرعونیانونه۔ فرعون خوب اولیدوچه بنی اسرائیلوکښ یوهلك پیداشوے دے اوځما حکومت ئے برباد کړے دے ۔ یا داچه دَ بنی اسرائیلونه ئے اوریدل چه الله تعالیٰ به په بنی اسرائیلوکښ یو نبی پیداکوی چه هغه به سبب دَ زوال دَ حکومت دَ فرعون وی او بنی اسرائیلو داخبره دَ خپلو مشرانونه نقل کوله لکه چه حدیث الفتون ابن کثیرپه تفسیرد سورة طٰهٰ کښ ذکرکړے دے۔ بعض تفسیرونوکښ خبردَ کاهنانو ذکر دے لیکن دَ هغے تصدیق نه دے جائز﴿اٰلَ فِرْعَوْنَ﴾ قوم اوتابعداران دَ فرعون مراد دی هغوی ته قبط ویلے کیدل ﴿یُذَبِّحُوْنَ﴾ دا دلته تفسیردے دَ سوءَ العذاب ﴿وَیَسْتَحْیُوْنَ﴾ یومعنیٰ دا ده چه ژوندئے به ئے پریخودلے دَ هغوی زنانه دَبے حیائے دَپاره۔ دویمه معنیٰ دا چه بے حیاکولے ئے دَ هغوی زنانه، دریمه داچه دَ هغوی دَ عورتونو تفتیش به ئے کوؤچه آیا ولدئے پیداشویدے او که نه ﴿ذٰلِکُمْ بَلَآءٌ﴾که ذالکم اشاره شی عذابونو دَ فرعونیانوته نو بلاء په معنیٰ دَ امتحان دے او که ذالکم اشاره وی نجات ورکولو ته نو بلاء په معنیٰ دَ انعام سره دے۔

[٥٠] ﴿اٰلَ فِرْعَوْنَ﴾ کښ فرعون هم داخل دے ځکه لفظ آل کښ مضاف الیه په حکم دَ مضاف کښ داخل وی اودَ قرآن کریم تصریحات دی چه فرعون غرق شوے دے لکه په سورة اسراء (١٠٣) اوسورة ذاریات(٤٠) اوسورة نازعات (٢٥) کښ اوپدے ایت کښ دویم انعام ذکردے نجات دَ غرق نه۔ او نجات دَ فرعونیانوپه دمه دمه وؤ نوهلته نجینا، ذکرکړو او دَ غرق نه نجات په یوځل سره وؤ نودلته ئے انجینا، ذکرکړو۔ اودَ دریاب نوم بحیرة قلزم دے چه هغے ته بحر احمر هم ویلے شی۔

[٥١] دَ دے واقعے تفصیل په سورة اعراف (١٤٢)کښ راځی او دا تمهید دے دَ دریم نعمت دَپاره۔ ﴿وَاَنْتُمْ ظَالِمُوْنَ﴾ دلته ظلم په معنیٰ دَ شرك دے په یهودیانوکښ عقیده دَ حلول وه دَ دے وجے نه ئے دَ سخی عبادت کوؤ اودا عادت دوی دَ مصریانونه ایزده کړے وؤ۔

ذٰلِكَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿٥٢﴾ وَاِذْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ وَالْفُرْقَانَ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ ﴿٥٣﴾ وَاِذْ قَالَ مُوْسٰى لِقَوْمِهٖ
يٰقَوْمِ اِنَّكُمْ ظَلَمْتُمْ اَنْفُسَكُمْ بِاتِّخَاذِكُمُ الْعِجْلَ فَتُوْبُوْٓا اِلٰى بَارِئِكُمْ فَاقْتُلُوْٓا اَنْفُسَكُمْ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ
عِنْدَ بَارِئِكُمْ فَتَابَ عَلَيْكُمْ اِنَّهٗ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ ﴿٥٤﴾ وَاِذْ قُلْتُمْ يٰمُوْسٰى لَنْ نُّؤْمِنَ لَكَ حَتّٰى نَرَى اللّٰهَ

دینه (په وجه دَ توبه کولو) دپاره دَ دے چه تاسوشکراوکړئے (٥٢) اوکوم وخت چه ورکړو مونږموسیٰ(علیه السلام) ته کتاب (تورات) اوجدائی کوونکے (دَ حق اودَ باطل) دپاره دَ دے چه لار اومومئے (٥٣) اوکوم وخت چه اوویل موسیٰ(علیه السلام) قوم خپل ته، اے قومه ځما یقیناً تاسوظلم کړے دے په ځانونو خپلو په سبب دَ نیولوستاسوسخی لره (په خدائے سره) پس توبه اوکړئے پیداکوونکی خپل ته، پس اووژنئی، ځانونه خپل، دا (توبه کول) غوره ده تاسو لره په نیز دَ پیداکوونکی ستاسو، پس توبه ئے قبوله کړه ستاسو، یقیناً خاص اللّٰه تعالیٰ ډیر توبه قبلوونکے اورحم کوونکے دے (٥٤) اوکوم وخت چه اوویل تاسو اے موسیٰ(علیه السلام): هیڅرے مونږایمان نه لرو په تا باندے ترهغے پورے چه اووینومونږاللّٰه تعالیٰ

[٥٢] دا دریم انعام دے معاف کول دَ شرك په سبب دَ توبے سره۔ او دَ توبے الفاظ په سورة اعراف (١٤٩) اوروستوآیت کښ ﴿فَتَابَ عَلَيْكُمْ﴾ راځی ﴿لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ﴾ دَ شرك دَ عذاب نه بچ کیدل لوئیے نعمت دے دَ دے وجے نه دلته ئے شکر ذکرکړو۔ اوشکریه لغت کښ اثرښکاره کیدل اوپه شریعت کښ دَ اللّٰه تعالیٰ دَ نعمتونواظهار په ژبه په طریقه دَ ثناکولواوپه اندامونوپه طریقه دَ عباداتو اوپه زړه کښ په طریقه دَ اعتقاد دَ تعظیم دَ هغه۔

[٥٣] داځلورم انعام دے کتاب ورکول دپاره دَ هدایت اودَ دے دَپاره چه پوره توحید باندے کلك شی۔ ﴿الْفُرْقَانَ﴾ دا دریم صفت دَ تورات دے یا معجزے دَ موسیٰ(علیه السلام) یا صحیفے دَ هغه چه په دے ټولو سره فرق دَ حق اوباطل راځی۔

[٥٤] دا پنځم انعام دے مطلب دا دے چه په توبه کښ قتل دَ مجرمانوشرط کړے وو لیکن بیائیے په هغے کښ تخفیف اوکړو۔ یعنی بعض ئے قتل کړل یائے ټول معاف کړل ﴿بَارِئِ﴾ هغه ذات چه پیداکوونکے دے په جدا جدا شکلونواو صفتونو سره ﴿اَنْفُسَكُمْ﴾ یعنی خپل ځانونه قتل ته اوسپارئے یا مراد دا دے چه اووژنئے هم جنس خپل چاچه جرم کړے دے په عبادت دَ سخی سره ﴿فَاقْتُلُوْا﴾ دا تفسیردَ توبے دے یعنی دَ هغوی توبه ئے قتل مقررکړو یا توبه په زړه اوپه ژبه سره وه اوقتل دَ هغے عقوبت اومکمل دَ توبے دے لکه زمونږ اُمت کښ دَ توبے سره رجم دَ زناکارو اودَ توبے سره قصاص اغستل دی ﴿فَتَابَ عَلَيْكُمْ﴾ دلته مراد تخفیف راوستل دی په سزا دَ قتل کښ اوپه دے معنیٰ په سورة توبه (١١٧) کښ شته اوکوم روایاتوکښ چه رازی چه اویازره کسان قتل کړے شوی وو دا دَ یهودومبالغے دی دَ خپل کثرت اوبرکت ښکاره کولو دپاره۔

جَهْرَةً فَاَخَذَتْكُمُ الصّٰعِقَةُ وَاَنْتُمْ تَنْظُرُوْنَ ﴿٥٥﴾ ثُمَّ بَعَثْنٰكُمْ مِّنْ بَعْدِ مَوْتِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿٥٦﴾ وَظَلَّلْنَا
عَلَيْكُمُ الْغَمَامَ وَاَنْزَلْنَا عَلَيْكُمُ الْمَنَّ وَالسَّلْوٰى ؕ كُلُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا رَزَقْنٰكُمْ ؕ وَمَا ظَلَمُوْنَا وَلٰكِنْ كَانُوْٓا
اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿٥٧﴾ وَاِذْ قُلْنَا ادْخُلُوْا هٰذِهِ الْقَرْيَةَ فَكُلُوْا مِنْهَا حَيْثُ شِئْتُمْ رَغَدًا وَّادْخُلُوا الْبَابَ
سُجَّدًا وَّقُوْلُوْا حِطَّةٌ نَّغْفِرْ لَكُمْ خَطٰيٰكُمْ ؕ وَسَنَزِيْدُ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿٥٨﴾ فَبَدَّلَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا قَوْلًا غَيْرَ الَّذِيْ

بنکاره پس اونیووتاسولره تندر اوتاسو ورته کتل (۵۵) بیا ژوندی کړئے مونږتاسو روستو ډمرګ ستاسو نه دپاره ډ دے چه احسان اومنئ (ډ اللّٰه تعالیٰ) (۵۶) اوسورے کړے مونږستاسو دپاسه وریځے، او را ولیګل مونږ په تاسوباندے ترنجبین اومړزان۔ (اوویل مونږ) خورئے ډ پاك (مزیدار) ډ هغے نه چه مونږ درکړی دی تاسوته، اوظلم نوو کړے دوی په مونږباندے، اولیکن دوی پخپلوځانونو باندے ظلم کؤو (۵۷) اوکوم وخت چه اُویل مونږ ورننوځئے دے بنارته پس خورئے، ډ دے نه چرته چه غواړئے پریوانه او ورننوځے دروازے ته سجده کوونکی، او وائے کلمه ډ حطة (اوبخے مونږ) اوبه بخوتاسوته ګناهونه ستاسو اوضرور زیات به کړو مونږ ثواب ډ خائسته عمل کوونکو (۵۸) پس بدل کړه هغه چاچه ظلم ئے کړے ؤو وینا (واخسته) ئے سیوا ډ هغے نه

[۵۶،۵۵] دا شپږم انعام دے چه ډ مرګ (ډ عقوبت نه) روستو بیائے ژوندی کړئے او دا معجزه ډ موسیٰ علیه السلام ده۔ په اول آیت کښ تمهید دے په ذکرډ عذاب او په سبب ډ عذاب سره او ډ دوی تفصیلی واقعه په سورة اعراف (۱۵۵)کښ ده ﴿لَنْ نُّؤْمِنَ لَكَ﴾ ایمان لغوی مراد دے تصدیق کول یعنی موسیٰ علیه السلام ته ئے وئیل چه ستاپه صرف غیبی خبرو زمونږ باور نیشته ﴿حَتّٰى نَرَى اللّٰهَ جَهْرَةً﴾ دا سوال ډ دوی په طریقه ډ بے ادبئے اوډیرے بے باکئے سره وؤ ﴿الصّٰعِقَةُ﴾ سخته چغه یا تندرسره مړه شول ﴿مَوْتِكُمْ﴾ ډ دے نه مراد حقیقی مرګ ډهغوی دے څوك چه ډ دے تاویل کوی په بے هوشئی سره نوهغوی ډ معجزاتو نه منکردی داسے واقعات په دے سورة کښ پنځه دی (۲۶۰،۲۵۹،۲۴۳،۷۲)۔

[۵۷] دا اووم انعام دے دا ډ بنی اسرائیلو ډهجرت فائدے دی ﴿الْغَمَامَ﴾ نرئے وریځ ته ویلے شی چه نَوَر پټ کړی لیکن تیاره اوګرمی نه پیداکوی ﴿اَنْزَلْنَا﴾ ډ دے نه مراد په غیبی طریقے سره پیداکول دی۔ ډ ﴿كُلُوْا﴾ نه مراد داد ے چه خیانت پکښ مه کوئے اوناشکری مه کوئے لیکن چه دوی داکارونه اوکړل اوذخیره ئے کوله نوهغه راتلل لګ شول نو هغے ته ئے ظلم اوئیل۔ ﴿طَيِّبٰتِ﴾ هغه څیزونه چه حلال وی اوپاك وی اومزه ورکوی اوپه بدن کښ غذائیت پیداکوی۔

[۵۸] په دے آیت کښ تمهید ډ عذاب اول دے او دا واقعه ډ یوشع علیه السلام په وخت کښ وه ډ موسیٰ علیه السلام په وخت کښ دوی ډ هغه ملك سره ډ جهاد کولونه انکارکړے وؤنوځلویښت کاله په میدان تیه کښ قید پاتے شول اوموسیٰ اوهارون علیهما السلام په هغه زمانه کښ وفات شول نوډیوشع علیه السلام په وخت کښ دوی جهاد اوکړو او هغه ملك ئے فتح کړو نو هغه وخت هغوی ته دا حکمونه اوشول چه په دے آیت کښ ذکردی دوه انعامات دوه عبادات دوه فائدے ﴿سُجَّدًا﴾ مراد ترینه په تواضع سره سرخکته کول دی یامراد دا دے چه ډداخلیدلونه روستوسجده ډ شکراوکړئے، لیکن اوله معنیٰ په صحیح حدیث سره

قِيْلَ لَهُمُ فَانْزَلْنَا عَلَى الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا رِجْزًا مِّنَ السَّمَآءِ بِمَا كَانُوْا يَفْسُقُوْنَ ﴿٥٩﴾ وَاِذِ اسْتَسْقٰى مُوْسٰى
لِقَوْمِهٖ فَقُلْنَا اضْرِبْ بِّعَصَاكَ الْحَجَرَ ؕ فَانْفَجَرَتْ مِنْهُ اثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْنًا ؕ قَدْ عَلِمَ كُلُّ اُنَاسٍ مَّشْرَبَهُمْ ؕ
كُلُوْا وَاشْرَبُوْا مِنْ رِّزْقِ اللّٰهِ وَلَا تَعْثَوْا فِى الْاَرْضِ مُفْسِدِيْنَ ﴿٦٠﴾ وَاِذْ قُلْتُمْ يٰمُوْسٰى لَنْ نَّصْبِرَ عَلٰى طَعَامٍ
وَّاحِدٍ فَادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُخْرِجْ لَنَا مِمَّا تُنْۢبِتُ الْاَرْضُ مِنْۢ بَقْلِهَا وَقِثَّآئِهَا وَفُوْمِهَا وَعَدَسِهَا وَبَصَلِهَا ؕ قَالَ
اَتَسْتَبْدِلُوْنَ الَّذِىْ هُوَ اَدْنٰى بِالَّذِىْ هُوَ خَيْرٌ ؕ اِهْبِطُوْا مِصْرًا فَاِنَّ لَكُمْ مَّا سَاَلْتُمْ ؕ وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ
وَالْمَسْكَنَةُ ۗ وَبَآءُوْ بِغَضَبٍ مِّنَ اللّٰهِ ؕ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ كَانُوْا يَكْفُرُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَيَقْتُلُوْنَ النَّبِيّٖنَ بِغَيْرِ

چه ویلے شوے وه دوی ته پس را اولیګو مونږ په هغه کسانو چه ظلم ئے کړے ؤو سخت عذاب (مقرر شوے) دَ اسمان دَ طرف نه پدے وجه چه نافرمانی ئے کوله (۵۹) او کوم وخت چه اوبه اوغوښتلے موسیٰ(علیه السلام)دپاره دَ قوم خپل، پس اووېل مونږ اووهه په همسا خپلے سره دغه ګټه۔ پس روانے شوے دَ دے ګټے نه دولس چینے په تحقیق سره پیژندلو هرے ډلے ګودر خپل (اووېل مونږ) خورئے اوخکئے دَ رزق دَ الله تعالیٰ نه اومه کیږئے په زمکه (دنیا) کښ فساد کؤونکی(٦٠)او کوم وخت چه اووېل تاسو اے موسی(علیه السلام): هیڅ چرے صبرنه کؤو مونږ په یوقسم خوراك باندے، پس دُعا اوغواړه دپاره ځمونږ دَ رب خپل نه چه را اوباسی دپاره ځمونږ دَ هغے نه چه ټوکوی ئے زمکه دَ سبزئے دَ هغے نه اوترے (بادرنګ) دَ هغے او اوګه (یاغنم) دَ هغے اومسور(دال) دَ هغے اوپیاز دَ هغے، اووېل موسیٰ(علیه السلام) آیاغواړئے هغه شے چه لاندے دے په بدل دَ هغے څه چه ډیرښه دے کوزشئے یو بنارته، پس یقیناً ستاسو دپاره هغه څه دی چه غواړئے، ئے تاسو او واچولے شوپه دوی باندے ذلت (په ظاهر) اوخواری (دَ زړه) اواخته شول دوئ په غضب دَ الله تعالیٰ سره، داپه سبب دَ دے چه دوئ ووچه کفرئے کولو په آیاتونودَ الله تعالیٰ او وژل ئے پیغمبران بغیر

معلومیږی ﴿وَقُوْلُوْا حِطَّةٌ﴾ خاص دَ دے لفظ په ویلوسره دوی مامور وؤ اودَ دے معنیٰ په عبرانئ اوعربئے ژبو کښ دَ ګناهونو بخښش دے ﴿وَسَنَزِيْدُ الْمُحْسِنِيْنَ﴾ یعنی څوك چه ګنهګار دی نو هغه ته په دے عباداتو سره ګناه معاف شی او دَ چاچه ګناه نه وی نو هغه ته زیات اجر به ملاؤشی۔

[۵۹] دا ذکر دَ اول عذاب دے په سبب دَ بدلولو دَ شرعی وینا۔ مطلب دا دے چه دَ ﴿حِطَّةٌ﴾ په ځائے حَبَّةٌ ئے وئیل یا حِنطَةٌ اودَ سجدے په ځائے باندے په خرپوځوتلل ئے کول داسے امام بخاری په کتاب التفسیرکښ حدیث راوړے دے او دا بدلول سبب دَ عذاب دے اودا دلیل دے په دے خبره باندے چه شرعی الفاظ اوشرعی طریقے بدلول لوئے ګناه دے اوبدلوؤنکے ظالم اوفاسق دے اوسبب دَلوئے عذاب دے۔ اوداکاربدعتیان دَعقیدے او دَ اعمالوکوی چه دین ئے بدل کړے دے او دا سزا خودَ قول دَ بدلولوده اوچه عمل بدل کړی (چه دَ هغے ذکرئے دلته پریخودلے دے) نوهغه دَ دے نه هم زیات جرم دے۔

[٦٠] دااتم انعام دے،دولس قبیلے دَبنی اسرائیلووے نودَهرے قبیلے دپاره جداجدا ګودر وو اوهر یوخپل خپل ګودر پیژندلودَپاره دَ دے چه دَ بل سره جنګ پیدانشی ﴿مُفْسِدِيْنَ﴾ یعنی ناشکری دَ دے نعمت مه کوئے۔

الْحَقِّ ؕ ذٰلِكَ بِمَا عَصَوْا وَّكَانُوْا يَعْتَدُوْنَ ﴿٦١﴾ ع اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَالَّذِيْنَ هَادُوْا وَالنَّصٰرٰى وَالصّٰبِـِٕيْنَ
مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَعَمِلَ صَالِحًا فَلَهُمْ اَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ ۚ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ
يَحْزَنُوْنَ ﴿٦٢﴾ وَاِذْ اَخَذْنَا مِيْثَاقَكُمْ وَرَفَعْنَا فَوْقَكُمُ الطُّوْرَ ؕ خُذُوْا مَآ اٰتَيْنٰكُمْ بِقُوَّةٍ وَّاذْكُرُوْا مَا فِيْهِ

دَ جرم شرعی نه۔ دا په دے سبب چه دوئ نافرمانی کوله اودَ حد (شرعی) نه ئے زیاتے کوو(٦١) یقیناً هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے او هغه کسان چه یهودیان دی اونصاریٰ (عیسایان) اوصابیان چا چه ایمان راوړو(دَ دوی نه) په اللّٰه تعالیٰ اوپه ورځے روستنئے او عمل ئے اوکړو نیك (په طریقه دَ نبی) پس دوی لره ثواب دَ (عمل) دَ دوئ دے په نیز دَ رب دَ دوی اونه به وی هیڅ ویره په دوی باندے اونه به دوی غمژن شی، (٦٢) اوکوم وخت چه واخسته مونږ پخه وعده ستاسو نه او پورته کړو مونږ ستاسو د پاسه طور(غر) اوویل مونږ اونیسئے هغه کتاب چه درکړے دے مونږ تاسو ته په کوشش سره او یادوئے هغه احکام چه پدے کښ دی

[٦١] دا ذکر دَدویم عذاب دے پسبب دَ بدلولو دَ نعمتونو سره اودَ موسیٰ علیه السلام مشوره ئے هم اونه منله اوپه حرص دَ خوراك سره ئے دَ اللّٰه تعالیٰ نعمت بدل کړو دَ دے اوله سزا ذلت یعنی په زمینداړئے کښ اخته شول کومه زمینداری چه مسلمان لره دَ دین کارنه مشغول کړی۔ پدے آیت کښ اشاره ده چه بنار هغے ته وائی چه په هغے کښ دَ انسان دَ معاش ټول اسباب موجود وی۔ ذِلَّتُ دا دے چه په ظاهر کښ سپك والے بنکاره کوی۔ سپکے جامے اغوندی، سوال کوی مثلاً ﴿اَلْمَسْكَنَةُ﴾ دا دے چه خوی ئے خوار وی اوپه زړه کښ مخلوق ته محتاج وی۔ یهودیان اگرچه مالداروی لیکن داصفات پکښ شته ﴿بِغَضَبٍ مِّنَ اللّٰهِ﴾ مراد ترینه آثارَ نعمت دی چه ترقی ئے په تنزل بدله شوه او زړونو کښ ئے دَ دین حق نه نفرت پیداشو۔ او دَلوئے عذاب په آخرت کښ مستحق شول ﴿يَكْفُرُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ﴾ ایاتونو باندے دَ کفر ډیرے طریقے وے تورات کښ دَ توحید او دَآخری نبی په باره کښ آیاتونه تحریف کول، اوحق پټول او دَ قرآن نه انکارکول او انجیل نه انکارکول﴿عَصَوْا﴾ داګناه دَ فسق ته اشاره ده ﴿وَّكَانُوْا يَعْتَدُوْنَ﴾ داګناه دَ بدعت ته اشاره ده چه هغه په دین کښ ځان نه زیاتے کول دی۔ او دے آیت کښ اشاره ده چه وړوکے ګناه دَ لوئے ګناه دَپاره سبب جوړیږی چه توبه ترینه اونه باسی او﴿ذٰلِكَ بِمَا عَصَوْا وَّ﴾ ذلك اشاره ده کفر اوقتل دَانبیاؤ ته چه دَهغے سبب عصیان اواعتداء وه اوداآیت اودارنګ په دے سورة (٨٧) او آلعمران (٢١، ١٨١، ١٨٢، ١١٢) اونساء (١٥٥) اومائده (٧٠) بنکاره دلیل دے چه یهودیانو انبیاء علیهم السلام قتل کړی وؤ او داسے ډیراحادیث هم په دے باندے دلیل دی او دَانکار کوؤنکو سره هیڅ دلیل نیشه ماسیوا دَ دے نه چه یهود به خوشحاله شی۔

[٦٢] دا ایت تتمه ده په ترغیب سره چه صرف په نومونو اوپه نسبتونو سره نجات نیشته، ځوك دعویٰ کوی چه قرآن والایم، ځوك وائی چه دَ موسیٰ امتی یم، ځوك وائی ځه دَ عیسیٰؑ امتی یم، ځوك وائی ځه زبورمنم او دَ یحییٰؑ امتی یم، نوپدے سره نشی بچ کیدلے بلکه په ایمان (اعبُدُوا رَبَّكُم) اوتابعداریٔ دَطریقے دَ نبی ﷺ سره نجات حاصلیږی ﴿صَابِئِيْنَ﴾ دوی مختلف ډلے دی ځوك دَ ستوروعبادت کوی، ځوك دَ

لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿٦٣﴾ ثُمَّ تَوَلَّيْتُمْ مِّنْ بَعْدِ ذٰلِكَ ۚ فَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ لَكُنْتُمْ مِّنَ الْخٰسِرِينَ ﴿٦٤﴾
وَلَقَدْ عَلِمْتُمُ الَّذِينَ اعْتَدَوْا مِنْكُمْ فِي السَّبْتِ فَقُلْنَا لَهُمْ كُونُوا قِرَدَةً خٰسِئِينَ ﴿٦٥﴾ ۚ فَجَعَلْنٰهَا نَكَالًا لِّمَا بَيْنَ

دپاره دَ دے چه بچ شئے (دَ ګناهونو یا دَ اورنه) (٦٣) بیا مخ وار ؤوتاسو روستودَ دے لوظ نه پس که نه وے فضل دَ اللّٰه تعالیٰ په تاسوباندے اومهربانی دَ هغه خامخا وے به تاسودَ هلاك شوونه (٦٤) اوپه تحقیق سره پوهه ئے تاسوپه حال دَ هغه چاچه زیاتے ئیے کړے ؤو(دَ حد شرعی نه) ستاسو نه په ورځ دَ حالی کښ پس اُویل مونږ دوی ته چه شئے شادوګان ذلیلان (٦٥) پس اوګرځوله مونږ داقصه عبرت هغه چاله چه حاضر وو

ملائکو، څوك دَ ستورونه بتان جوړوی او دَ هغے عبادت کوی اوڅوك دَ قطب ستوری عبادت کوی او دوی زبور کتاب لولی او دعویٰ دَ ایمان کوی په یحییٰ باندے دَ دے وجے نه دوی دَ کتابیانو په حکم کښ داخل دی۔ او ایمان په اللّٰه تعالیٰ باندے دَ هغه ذات منل توحید منل احکام منل نوپه احکاموکښ ملائك او کتابونه او رسولان منل ټول داخل دی۔ نو داټولو ایمانیاتوته شامل دے۔

[٦٣] دا دویم خطاب دے تر(٨٢) پورے په دے کښ درے خباثتونه دَ مشرانو ذکردی۔ یے لوظی کول، دَ اللّٰه تعالیٰ احکامو کښ حیلے کول، په جرم سره پاك خلق بدنامول۔ او دَ موجوده کسانو پنځه خباثتونه دی تحریف معنوی کول، منافقت کول، دَ امیانوپه باطلو خبرو پسے تقلید کول، تحریف لفظی کول، ځان له جنت خاص کول۔ بیا دَدے تتمه په تخویف او بشارت سره ذکرده۔ غړپورته کول دپاره دَ مجبوره کولونه دی بلکه اکراه ده او دَ هغے سره ایمان قبول دے مثال دا دے چه توره په یوکس باندے اوچته کړے شی دَ وژلو دپاره اوهغه زر ایمان راوړی نو دا ایمان منظور دے په شریعت کښ۔ او دا پورته کول دَ غړپه حقیقت باندے حمل دی دَ دے نه انکار کول دا دَ معجزاتونه انکارکول دی ﴿بِقُوَّةٍ﴾ دَ دے معنیٰ کوشش کول دی په عمل کولو کښ په هغه کتاب باندے ﴿وَاذْكُرُوا﴾ مراد دَ دے نه درس وتدریس کول دی۔ ذکر، په ژبه لوستل اوپه زړه کښ فکر تدبرکول مراد دی۔

[٦٤] پدے ایت کښ دَهغوی بے لوظی ذکرده فضل دَ اللّٰه تعالیٰ دا دے چه مهلت ورکوی دَ عذاب نه ﴿رَحْمَتُهُ﴾ رحمة دَ هغه دا دے چه توفیق دَتوبے بعضِ کسانوله ورکوی۔ دا دَ دوی دَ مشرانوپه باره کښ ده یامراد دَ فضل اورحمت نه قرآن او آخری رسول رالیږل کشرانو دَ دوی ته دپاره دَ دے چه ایمان راوړی۔ ﴿الْخَاسِرِينَ﴾ مراد دَ دے نه هلاکت دے په عذاب دَ دنیا یا دَ جهنم سره۔

[٦٥] په دے کښ دَ دوی بل خیانت ذکرکوی یعنی حیلے کول او هغه دوه قسمونه دی(١) حیله کول په باره دَ حاصلولو دَ حرام څیز چه هغه واقعه دَ سبت ده (٢) او حیله کول دَپاره دَ اسقاط دَ واجباتو، دے حیلے ته په ذبح بقره کښ اشاره ده او دَ هغے تفصیل په سورة اعراف (١٦٣)کښ دے۔ پدے آیت کښ دلیل دے چه دَ اللّٰه تعالیٰ په احکاموکښ داسے حیله کول چه حرام شے حلالوی دا ناجائزده لکه حیله سقاط مروجه شوه په دے زمانه کښ اوتفصیل دَ دے په تفسیر احسن الکلام کښ اوګورئے په دے کښ اشاره ده چه حیلے کول اعتداء ده ﴿فِي السَّبْتِ﴾ دَ ورځ دَځالی یا په باره دَتعظیم دَ ورځ دَځالی کښ۔

يَدَيْهَا وَمَا خَلْفَهَا وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿٦٦﴾ وَاِذْ قَالَ مُوْسٰى لِقَوْمِهٖٓ اِنَّ اللّٰهَ يَاْمُرُكُمْ اَنْ تَذْبَحُوْا بَقَرَةً ؕ
قَالُوْٓا اَتَتَّخِذُنَا هُزُوًا ؕ قَالَ اَعُوْذُ بِاللّٰهِ اَنْ اَكُوْنَ مِنَ الْجٰهِلِيْنَ ﴿٦٧﴾ قَالُوا ادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّنْ لَّنَا مَا هِيَ ؕ
قَالَ اِنَّهٗ يَقُوْلُ اِنَّهَا بَقَرَةٌ لَّا فَارِضٌ وَّلَا بِكْرٌ ؕ عَوَانٌۢ بَيْنَ ذٰلِكَ ؕ فَافْعَلُوْا مَا تُؤْمَرُوْنَ ﴿٦٨﴾ قَالُوا ادْعُ

هغه وخت او هغه چاڼه چه روستو وو او وعظ دپاره دَ پرهیزګارانو (دَ دے اُمت) (٦٦) او کوم وخت چه اُویل موسیٰ قوم خپل ته یقیناً اللّٰه تعالیٰ حکم کوی تاسوته چه حلاله کړئے یو غوا۔ اُوئے دوی آیا کوے ته مونږسره ټوقے، اویل موسیٰ(علیه السلام) پناهی غواړم په اللّٰه تعالیٰ چه شم ځه دَ ناپوهونه (٦٧) اُویل دوی دُعا اوغواړه مونږ لره دَ رب خپل نه چه بیان کړی مونږته څه عمردے دَ دے غوا؟ اُویل موسیٰ(علیه السلام) یقیناً اللّٰه تعالیٰ فرمائی: یقیناً داغوا نه ده زړه، اونه ده نوے ځوانه۔ میانه حاله ده په مینځ دَ دے کښ ده پس او کړئے هغه چه تاسوته حکم کیدے شی (٦٨) اُویل دوی دُعا اوغواړه

﴿كُوْنُوْا قِرَدَةً﴾ دامسخ په حقیقت باندے بناده یعنی دَمخ اوسرشکلونه ئے دَ شادوګانو پشان شول اګرچه نوردَ انسانیت صفات پکښ وو او دوی په دے باندے پوهیدل چه دا عذاب دے ﴿خَاسِئِيْنَ﴾ یعنی نورکسانو ذلیل ګنړل او دَ ځان نه به ئے بیرته شړل۔

[٦٦] نکال هغه سزا ده چه منع کوی چه داسے کار بیا اونشی یعنی دَ خالی دَورځے بے عزتی اونشی او دا خاص ده په بنی اسرائیلو پورے او ﴿مَوْعِظَةً﴾ منع کول دَ نورو حیلونه چه دَ دے په مثل وی او دا دَ دے امت دپاره دی چه هغوی ته ئے متقین وئیلی دی ﴿بَيْنَ يَدَيْهَا﴾ حاضرخلق، نزدے کلی ﴿وَمَا خَلْفَهَا﴾ غائب خلق اولرے کلی۔

[٦٧] دا دویم خبائت ذکرکوی چه دوی په بهانو سره دَ اللّٰه تعالیٰ احکام دَ ځان نه ګرځول دَ غوا دَ ذبحے حکم پدے وجه دے چه دا دَ بنی اسرائیلومعبود وؤ چه دوی ئے ذبح کړی نو دَ دوی عقیده دَ توحید به کلکه معلومه شی لیکن دوی دَ کمزورئ دَ وجے نه چون چرا شروع کړو او دے ته اشاره کړے ده ابن قیم په تفسیر کښ۔ چه دَ واقعے دَ قتل دَ وجے نه امرپه ذبح دَ بقرے سره اسرائیلی روایات دی اوابن کثیرلیکلی دی چه په دواړه واقعو کښ دَ ځلویښت کالو فاصله ده۔ اودے ایت کښ اشاره ده چه په اللّٰه تعالیٰ باندے دروغ جوړول لوئے جهل دے۔ او انبیاء علیهم السلام دَ داسے جهل نه معصوم دی۔

[٦٨] دا دَ دوی بهانے دی دَ روستو کولودَحکم دپاره ۔نو اللّٰه تعالیٰ ورته حکم سخت کړو او دوی چه دَ کوم عجل عبادت کوونوهغے کښ هم داصفات وؤ ﴿لَافَارِضٌ﴾ هغه چه بوډے وی اوهمزولی ئے ختم شوے وی ﴿بِكْرٌ﴾ نوے ځوانه چه تر اوسه پورے حمل ئے نه وی اخستلے۔ خالص وړه بچئے مراد نه ده۔ ﴿عَوَانٌ﴾ درمیانه عمروالا دَ فارض اودَ بکریه مینځ کښ ﴿بَيْنَ ذٰلِكَ﴾ یعنی پوره په مینځ دَدواړو عمرونو کښ ده یو طرف ته نیزدے نه ده۔

لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّنْ لَّنَا مَا لَوْنُهَا ؕ قَالَ اِنَّهٗ يَقُوْلُ اِنَّهَا بَقَرَةٌ صَفْرَآءُ ۙ فَاقِعٌ لَّوْنُهَا تَسُرُّ النّٰظِرِيْنَ ﴿٦٩﴾ قَالُوا
ادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّنْ لَّنَا مَا هِيَ ۙ اِنَّ الْبَقَرَ تَشٰبَهَ عَلَيْنَا ؕ وَاِنَّآ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ لَمُهْتَدُوْنَ ﴿٧٠﴾ قَالَ اِنَّهٗ
يَقُوْلُ اِنَّهَا بَقَرَةٌ لَّا ذَلُوْلٌ تُثِيْرُ الْاَرْضَ وَلَا تَسْقِى الْحَرْثَ ۚ مُسَلَّمَةٌ لَّا شِيَةَ فِيْهَا ؕ قَالُوا الْـٰٔنَ جِئْتَ
بِالْحَقِّ ؕ فَذَبَحُوْهَا وَمَا كَادُوْا يَفْعَلُوْنَ ﴿٧١﴾ ع وَاِذْ قَتَلْتُمْ نَفْسًا فَادّٰرَءْتُمْ فِيْهَا ؕ وَاللّٰهُ مُخْرِجٌ مَّا كُنْتُمْ تَكْتُمُوْنَ ﴿٧٢﴾

مونږ لره دَ رب خپل نه چه بیان کړی مونږ ته چه څه دے رنګ دَ دے غوا؟ اُویل هغه یقیناً اللّٰه تعالیٰ فرمائی یقیناً داغوا ده زیړه تیزدے رنګ دَ دے خوشحاله کوی کتونکو لره (٦٩) اُویل دوی دُعا اوغواړه مونږ لره دَ رب خپل نه چه بیان کړی مونږ لره چه څه دے (صفت) دَ دے غوا۔ یقیناً داغوا ګډه وډه شوه په مونږ باندے۔ اویقیناً مونږ که اوغواړی اللّٰه تعالیٰ خامخا رسیدونکی یوخپل مقصد ته (٧٠)اُویل موسیٰ(علیه السلام) یقیناً اللّٰه تعالیٰ فرمائی یقیناً داغوا ده نه ده غاړه وتلے جوتی چه اړه وی زمکه اونه ده اړتی چه اوبه کوی فصل۔ روغه موټه ده نیشته هیڅ داغ په هغے کښ اُویل دوئ اوس دِ راوړوبیان پوره۔ پس حلاله ئے کړه (پس دَ بیان نه) او نه ژو نزدے چه داکارئے کړے وے (مخکښ دَ بیان نه) (٧١) اوکوم وخت چه اووژلوتاسو یوکس پس مختلف شوے دَ هغه په باره کښ اواللّٰه تعالیٰ ښکاره کوی هغه چه تاسو ئے پټوئے (٧٢)

[٦٩] دا دَ دوی دویمه بهانه ده اواللّٰه تعالیٰ هغه په جواب سره لرے کوله ﴿صَفْرَآءُ﴾ بعضے مفسرینو دَ دے معنیٰ په تورے سره کړے ده لیکن هغه قول ئے صحیح نه دے او روستو فاقع هم دَ زیړ دَ تاکید دَپاره استعمالیږی۔

[٧٠] په دے کښ سوال په اعتبار دَ کارکولودَ هغه غوا سره دے دَ ﴿اِنْ شَآءَ اللّٰهُ﴾ دَ وئیلوبرکت دا ووچه په راتلونکی بیان باندے دَ دوی تسلی اوشوه۔ په حدیث کښ راغلی دی که دوی انشاء اللّٰه نوے ویلے نواللّٰه تعالیٰ دوی ته وضاحت به هیڅرے وے نه وے۔ نو دَ انشاء اللّٰه په ویلو کښ ضرور برکات دی۔

[٧١] دے کښ اشاره ده چه دَغوانو دوه کارونه دی، څمکه جوت کول، او اوبه کول اوهرچه سورلی کول یا بار وړل په هغے باندے نو دا ظلم دے ﴿مُسَلَّمَةٌ﴾ روغه موټه ده یعنی اندامونه ئے روغ دی اورنګ ئے سالم دے ﴿لَاشِيَةَ﴾ دا سے داغ چه دَ کارکولودَ وجے نه شوے وی یا په رنګ کښ مخالف بل رنګ۔ ﴿بِالْحَقِّ﴾ مراد دَ دے نه پوره بیان کول دی دا دَ باطل مقابل نه دے ﴿وَمَا كَادُوْا يَفْعَلُوْنَ﴾ یعنی روستو دَ دے بیان ئے ذبح کړله ورنه دَ دے بیان نه رواندے دوی دَ هغے ذبح کولوته تیارنه وؤ دَ وجے دَ کچه عقیدے دَتوحید نه۔

[٧٢] دا دریم خباثت ذکرکوی چه نفس ئے قتل کړے وو اوبیائے بل څوك بدناموَل نومطلب داشوچه ګناه کول اونسبت بل چاته کول دا خباثت دے۔ اودا دریم قسم دَ حیلے دے چه په حرام طریقے سره دَ چامال ته رسیدل یا دَ هغه ښځه حاصلول دوی هم دَ قتل په ذریعه او بیا دَ هغے نه دَ انکار کولو په ذریعه دَ خپل ترڅ نه مال یا ښځه حاصلوله لکه چه مفسرینو داسے واقعه لیکلے ده۔

فَقُلْنَا اضْرِبُوْهُ بِبَعْضِهَا ؕ كَذٰلِكَ يُحْيِ اللّٰهُ الْمَوْتٰى ۙ وَيُرِيْكُمْ اٰيٰتِهٖ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿٧٣﴾ ثُمَّ قَسَتْ قُلُوْبُكُمْ
مِّنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ فَهِيَ كَالْحِجَارَةِ اَوْ اَشَدُّ قَسْوَةً ؕ وَاِنَّ مِنَ الْحِجَارَةِ لَمَا يَتَفَجَّرُ مِنْهُ الْاَنْهٰرُ ؕ وَاِنَّ
مِنْهَا لَمَا يَشَّقَّقُ فَيَخْرُجُ مِنْهُ الْمَآءُ ؕ وَاِنَّ مِنْهَا لَمَا يَهْبِطُ مِنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ ؕ وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا
تَعْمَلُوْنَ ﴿٧٤﴾ اَفَتَطْمَعُوْنَ اَنْ يُّؤْمِنُوْا لَكُمْ وَقَدْ كَانَ فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ يَسْمَعُوْنَ كَلٰمَ اللّٰهِ ثُمَّ يُحَرِّفُوْنَهٗ مِنْۢ
بَعْدِ مَا عَقَلُوْهُ وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿٧٥﴾ وَاِذَا لَقُوا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قَالُوْٓا اٰمَنَّا ۚ وَاِذَا خَلَا بَعْضُهُمْ اِلٰى بَعْضٍ

پس اُویل مونږ اُوهغے دهٔ لره په څه حصه دَ دے، دغسے ژوندی کوی اللّٰه تعالیٰ مړی او خائی تاسوته دلیلونه خپل دے دپاره چه دَ عقل نه کار واخلئے (۷۳) بیا سخت شول زړونه ستاسو پس دَ دینه پس دازړونه په شان دَ ګټو دی بلکه زیات دی په سختئے کښ ځکه چه یقیناً بعض دَ ګټونه خامخا هغه دی چه بهیږی دَ هغے نه ولے اویقیناً بعض دَ دینه خامخا هغه دی چه اوچوی پس اوځی دَ هغے نه اوبه اویقیناً بعض دَ هغے نه خامخا هغه دی چه ورغړی دَ وجے دَ ویرے دَ اللّٰه تعالیٰ نه۔ اوندے اللّٰه تعالیٰ بے خبره دَ هغه عملونونه چه تاسو ئے کوئے (۷٤) ایا پس طمع کوئے تاسو چه دوی به اومنی خبرے ستاسو اوحال داچه وه یوه ډله دَ دوی نه آوریدو ئے کلام دَ اللّٰه تعالیٰ بیائے بدلولے معنے دَ هغے پس دَ هغے نه چه پوهه شودَ هغے په مراد باندے او دوی پوهیدل چه داګناه دے (۷۵) اوهرکله چه دوی مخامخ شی دَ مؤمنانو سره دوی وائی ایمان راوړے دے مونږ، او هرکله چه لاړشی بعض دَ دوی بعضو ته

[۷۳] هغه مړے دَ غوا په یوه ټکړه اووهلے شو۔ یعنی بقره ئے مخکے ذبح کړے وه لیکن روستو دا واقعه دَ قتل پیښه شوه نواللّٰه تعالیٰ امر اوکړو چه دَ دے بقرے (چه ستاسودَ عقیدونه دَ دے تعظیم دَ په ذبح کولو سره ختم شو) په یوټکړه باندے اووهئے، دا مشهور روایت دے ، اوقول دَ حُسین علی رحمه اللّٰه دا دے چه دا مړے پخپله ټکړه اُوهلے شو۔ اللّٰه تعالیٰ په دواړه طریقو باندے قادر دے ﴿كَذٰلِكَ﴾ اشاره ده چه په دے کښ لوئے مقصد اثبات دَ بعث بعد الموت وؤ دَپاره دَ صحیح کولو دَ عقیدے دَ بنی اسرائیلو په دے باره کښ۔

[۷٤] دے ایت کښ زورنه ده او سبب دَ نقل دَ خبائتونو دے کشرانوته۔ او دَ ګټو درے قسمونه ذکرشوی دی۔ اعلیٰ قسم چه ډیرمخلوق ته ترینه فائده رسیږی دیرے اوبه ترینه روانے دی۔ اوسط قسم چه لږوخلقوته ترے فائده رسیږی۔ ادنیٰ چه نوروته فائده نه رسوی لیکن پخپله پکښ خشوع شته۔ نیکانو انسانانو کښ هم دا درے درجے پکاردی درانګ هغه زړونه چه ډیرجراکوی او دویم هغه چه لګه جرا کوی او دریم هغه چه په زړه کښ جرا وی اګرچه په سترګوسره نه وی اوچه دَ دے درے قسمونه علاوه وی نوهغه دَ ګټے نه هم سخت دے ﴿قَسْوَةً﴾ قسوة دَ زړه دا دے چه دَ انابت نه خالی وی ضد اوعناد پکښ وی او په آیاتونو الٰهیه او مواعظوسره په هغه کښ هیڅ اثرنه کیږی او حدیث نه معلومیږی چه دا دَ بدبختئے نښه ده ﴿خَشْيَةِ﴾ اشاره ده چه په جماداتو کښ هم اللّٰه تعالیٰ یوقسم معرفت اوخشیت کیخودلے دے۔

[۷۵] دے ایت کښ ذکرد اول فریق دے تحریف معنوی کوؤنکی۔ تحریف دوه قسمه دے۔ یو دَ معنیٰ تحریف اوهغے ته تفسیر بالرائے هم وائی دَ هغے مطلب دا دے چه دا سے تفسیر کول چه په هغے سره غلطه

قَالُوْٓا اَتُحَدِّثُوْنَهُمْ بِمَا فَتَحَ اللّٰهُ عَلَيْكُمْ لِيُحَآجُّوْكُمْ بِهٖ عِنْدَ رَبِّكُمْ ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ۝٧٦ اَوَلَا يَعْلَمُوْنَ اَنَّ اللّٰهَ
يَعْلَمُ مَا يُسِرُّوْنَ وَمَا يُعْلِنُوْنَ ۝٧٧ وَمِنْهُمْ اُمِّيُّوْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ الْكِتٰبَ اِلَّآ اَمَانِيَّ وَاِنْ هُمْ اِلَّا يَظُنُّوْنَ ۝٧٨
فَوَيْلٌ لِّلَّذِيْنَ يَكْتُبُوْنَ الْكِتٰبَ بِاَيْدِيْهِمْ ۗ ثُمَّ يَقُوْلُوْنَ هٰذَا مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ لِيَشْتَرُوْا بِهٖ ثَمَنًا قَلِيْلًا ؕ

هغوی دوی وائی آیا خبر ورکوئے تاسو دویته په هغے چه خودلے دے اللّٰه تعالیٰ تاسوته دے دپاره چه دوی به دلیل اونیسی په تاسو باندے په هغے سره په نیز دَ رب ستاسوآیا پس دَ عقل نه کارنه اخلئے (٧٦) آیا (دوی دا وائی) او دوی نه پوهیږی چه یقیناً اللّٰه تعالیٰ پوهه دے په هغه څه چه دوی پټوی اوهغه څه چه دوی ښکاره کوی (٧٧) اوبعضِ دَ دوینه امیان دی نه پوهیږی په کتاب باندے مګرږے دلیله ارزوکانے اونه دی دوی مګر اټکل کوی (٧٨) پس تباهی ده هغه کسانو لره چه لیکی کتاب په خپلولاسونوبیا وائی دا دَ طرفه دَ اللّٰه تعالیٰ نه دے، دے دپاره چه واخلی په هغے سره قیمت لږ (دنیا معمولی)

عقیده او بدعمل ثابتوی۔ او دَنورو ایاتونو یا احادیثو سره ئے مخالفت وی۔ بل تحریف لفظی دے مطلب دا دے چه الفاظ دَ کلام اللّٰه بدل کړی او دَ هغے په ځائے نور الفاظ اولیکی یا اولولی دواړه ګناه دے اوکفردے دلته اوله معنیٰ مراد ده ﴿يَسْمَعُوْنَ كَلَامَ اللّٰهِ﴾ مراد دَ دے نه تورات دے چه دوی ته به چاپو آیت دَ هغے په دلیل کښ پیش کړو نو دوی به دَ هغے غلط تاویل اوکړو او دا لفظ صریح دلیل دے چه الفاظ اوحرفونه دَکتاب اللّٰه (چه اوریدلے کیږی او لوستلے کیږی) داکلام اللّٰه دے یعنی کلام لفظی دَ اللّٰه تعالیٰ کلام دے ﴿عَقَلُوْهُ﴾ دَ هغے په مقصد باندے پوهیدل ﴿وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ﴾ او دَ تحریف په ګناه کیدلوهم پوهیدل۔

[٧٦] دے ایت کښ ذکر دَدویم فریق دے منافقین، مطلب دا دے چه دَ دوی لوئے ملایان چه ښکاره کافروو اوتحریف ئے کوؤ دا واړه کافر(منافق) به ئے منع کول چه مؤمنانوته دَ تورات نه مسئلے مه بیانوئے ځکه چه دا مؤمنان به په دے سره دلیل اونیسی اوپه تاسوبه غالب شی ﴿عِنْدَ رَبِّكُمْ﴾ مراد ترینه په قیامت کښ حجت قائم کول دی په کتاب دَ رب سره به حجت قائم کړی او تاسوبه پره کړی۔

[٧٧] دا زورنه ده مخکښو خبث والوته که غټ ملایان وی اوکه منافقان دی او رد دے په شرك فی العلم باندے اواثبات دَ علم کلی دَ اللّٰه تعالیٰ دے۔

[٧٨] په دے ایت کښ ذکر دَدریم فریق دے امیان تابع دَخواهشاتو دَ ملایانو۔ دَدے ایت یومطلب دا دے چه دا امیان په کتاب باندے بالکل نه پوهیږی او تابعداری کوی په عمل کښ دَ خواهشاتودَ ملایانو(چه هغوی بے دلیله مسئلے جوړے کړی دی) اوپه عقیده کښ په ګمان او اټکل پسے ځی په دے معنیٰ سره ﴿اَمَانِيَّ﴾ یعنی دَ خواهشاتوجوړے کړے دَ ملایانو اوالّا استثناء منقطع ده۔ اودویم مطلب دا دے چه داسے امیان دی چه دَ کتاب په لفظ پوهیږی او په معنیٰ نه پوهیږی اوتابعداری کوی دَ ګمان په مقابله دَ یقینی دلیلونو کښ په دے معنیٰ سره (اَمَانِيَّ) په معنیٰ دَ الفاظو لوستلو او اِلّااستثناء متصل ده۔

فَوَيْلٌ لَّهُمْ مِّمَّا كَتَبَتْ اَيْدِيْهِمْ وَوَيْلٌ لَّهُمْ مِّمَّا يَكْسِبُوْنَ ﴿٧٩﴾ وَقَالُوْا لَنْ تَمَسَّنَا النَّارُ اِلَّآ اَيَّامًا
مَّعْدُوْدَةً ۭ قُلْ اَتَّخَذْتُمْ عِنْدَ اللّٰهِ عَهْدًا فَلَنْ يُّخْلِفَ اللّٰهُ عَهْدَهٗٓ اَمْ تَقُوْلُوْنَ عَلَى اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿٨٠﴾
بَلٰى مَنْ كَسَبَ سَيِّئَةً وَّاَحَاطَتْ بِهٖ خَطِيْۗـَٔتُهٗ فَاُولٰۗىِٕكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿٨١﴾ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا
وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اُولٰۗىِٕكَ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿٨٢﴾ ع وَاِذْ اَخَذْنَا مِيْثَاقَ بَنِيْٓ اِسْرَاۗءِيْلَ لَا

پس تباهی ده دوی لره دَ وجے دَ هغے نه چه لیکی لاسو نه دَ دوی اوتباهی ده دوی لره دَ وجے دَ هغه مال نه چه دوی کتی (۷۹)اودوی وائی: هیڅرے به اونرسی مونږته اور مګر یوڅو ورځے شمارلے شوے (لرے) نو وایه آیا اغستے ده تاسو دَ اللّٰه تعالیٰ سره وعده پس هیڅرے خلاف نه کوی اللّٰه تعالیٰ دَ وعدے خپلے نه بلکه جوړه وئے تاسو (ورتپے) په اللّٰه تعالیٰ باندے هغه خبرے چه تاسوپه هغے علم نه لرئے (په دلیل سره) (۸۰) داسے نده بلکه چاچه اوکړه بدی (شرك) او راګیرکړی دهٔ لره ګناه دَ دهٔ (ترمرګه پورے) پس دغه کسان اوروالله دی دوی به په هغے کښ همیشه وی (۸۱) اوهغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے اوعمل ئے کړے دے نیك (په طریقه دَ پیغمبرﷺ) دغه کسان جنت والادی دوی به په هغے کښ همیشه وی(۸۲) اوکوم وخت چه واخستو مونږ پوخ لوظ دَ بنی اسرائیلونه چه

[۷۹] په دے آیت کښ ذکر دَ ځلورم فریق دے چه تحریف لفظی کوی اوپدے کښ درے ګناهونه دَ دوی ذکرشوی دی (۱) دَځان نه مسئلے جوړول اولیکل(۲) اللّٰه تعالیٰ ته دَ هغے نسبت کول په افتراء (۳) په دے طریقه سره دَ امیانو نه مال دَ دُنیا حاصلول، دَ دے وجے نه درے ځله ویل لفظ ذکرشو۔ اووَیل په معنیٰ دَ هلاکت دے په معنیٰ دَ کندے دَ اوریا غردَ اور سره احادیث صحیح ثابت نه دی۔

[۸۰] پدے ایت کښ پنځم خباثت ذکر دے دا تحریف کوونکی ملایان ځان جنتیان ګڼری۔ مطلب دا دے چه دوی سرهٔ دَ شرك اوکفر او تحریف کولونه ځان ته کامل مؤمنان وائی او وائی که دَ نورو ګناهونودَ وجے نه که مونږیوڅوورځے اورته لاړشولیکن جنت ته به ضرور داخلیږو۔ او دا دعویٰ غلطه ده ځکه چه بغیرد توحیدنه جنت ته نشی داخلیدلے دَ﴿عِنْدَ اللّٰهِ عَهْدًا﴾ مطلب دا دے چه آیادوی توحید دَ اللّٰه تعالیٰ قبول کړے دے؟ ځکه چه دعویٰ دَ جنت په توحید سره ده نوکه توحید وی نو اللّٰه تعالیٰ دَ خپلے وعدے خلاف نه کوی۔ دویمه توجیه دا ده چه اللّٰه تعالیٰ دَ دوی سره وعده دَ جنت په وحی سره کړے وی نوهغه دِ ثابته کړی ﴿اَمْ تَقُوْلُوْنَ﴾ ام په معنیٰ دَ بل سره یعنی په اللّٰه تعالیٰ باندے دروغ جوړوی په دعویٰ دَجنت سره۔

[۸۱] په دے ایت کښ تتمه ده اوتخویف اُخروی دے یعنی دَ اخرت دَ عذاب نه ویره ده دپاره دَ نه منونکو ﴿سَيِّئَةً﴾ په قول دَ ابن عباس رضی اللّٰه عنهما په معنیٰ دَ شرك سره ده ﴿وَاَحَاطَتْ بِهٖ خَطِيْۗـَٔتُهٗ﴾ خطیئة نه مراد عام ګناهونه کبیره اوشرك کول دی اودَ احاطے نه مراد توبه نه کول دی ترمرګه پورے۔

[۸۲] دا ایت بشارت یعنی زیرے دے دپاره دَ منونکو۔ اوښادے په ایمان شرعی او عمل صالح (عمل موافق دَ قرآن اوسنت سره۔)

تَعْبُدُوْنَ اِلَّا اللّٰهَ ۟ وَبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا وَّذِي الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنِ وَقُوْلُوْا لِلنَّاسِ حُسْنًا وَّاَقِيْمُوا
الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ ؕ ثُمَّ تَوَلَّيْتُمْ اِلَّا قَلِيْلًا مِّنْكُمْ وَاَنْتُمْ مُّعْرِضُوْنَ ﴿٨٣﴾ وَاِذْ اَخَذْنَا مِيْثَاقَكُمْ لَا تَسْفِكُوْنَ
دِمَآءَكُمْ وَلَا تُخْرِجُوْنَ اَنْفُسَكُمْ مِّنْ دِيَارِكُمْ ثُمَّ اَقْرَرْتُمْ وَاَنْتُمْ تَشْهَدُوْنَ ﴿٨٤﴾ ثُمَّ اَنْتُمْ هٰٓؤُلَآءِ
تَقْتُلُوْنَ اَنْفُسَكُمْ وَتُخْرِجُوْنَ فَرِيْقًا مِّنْكُمْ مِّنْ دِيَارِهِمْ تَظٰهَرُوْنَ عَلَيْهِمْ بِالْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ ؕ وَاِنْ يَّاْتُوْكُمْ
اُسٰرٰى تُفٰدُوْهُمْ وَهُوَ مُحَرَّمٌ عَلَيْكُمْ اِخْرَاجُهُمْ ؕ اَفَتُؤْمِنُوْنَ بِبَعْضِ الْكِتٰبِ وَتَكْفُرُوْنَ بِبَعْضٍ ۚ فَمَا
جَزَآءُ مَنْ يَّفْعَلُ ذٰلِكَ مِنْكُمْ اِلَّا خِزْيٌ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ يُرَدُّوْنَ اِلٰٓى اَشَدِّ الْعَذَابِ ؕ

بندگی به نه کوئے مگرد یواللّٰه تعالیٰ او (کوئے) مور پلار سره بنیگړه او د خپلوانو سره او یتیمانو سره اومسکینانو سره او وائے خلقوته ښه خبرے اوپابندی کوئے د مانځه او ورکوئے زکوٰة بیا مخ واړوو تاسومګرلږ کسان ستاسونه اوتاسوهمیشه مخ ګرځوونکی ئیی (۸۳) اوکوم وخت چه واغستو مونږ پوخ لوظ ستاسونه چه نه به تویه وئے وینے د یوبل (په ناحقه) اونه به اوباسئے یو بل لره د کورونوخپلوئه، بیا اقرار اوکړو تاسواوتاسو پوهیږئ (۸٤) بیاتاسو اے دغه خلقو وژنئے یوبل لره اواوباسئے تاسویوه ډله ستاسو د کورونود هغوی نه مدد کوئے تاسود یوبل د هغوی په مقابله کښ په ګناه اوپه ظلم سره اوکه دوی راشی تاسوته قیدیان نوجرمانه ورکوئے تاسود هغوی (خلاصولودپاره) اوشان دادے حرام دے په تاسو باندے ویستل د هغوی آیا پس تاسوایمان راوړئ په بعض حصه د کتاب باندے اوکفرکوئے په بعض حصه د کتاب، پس نیشته بدله د هغه چاچه کوی داکارستاسونه مګرشرمیدل دی په ژوند دنیوی کښ اوپه ورځ د قیامت به اوګرځولے شی دپرسخت عذاب ته

[۸۳] د دے آیت نه تر(۸٦) پورے دریم خطاب دے پدے کښ د بنی اسرائیلو بل قسم خباثات ذکردی یعنی د څلورو او امرو خلاف کول اود څلورو نواهیو ارتکاب کول اوآخرکښ تنمه په تخویف اُخروی سره ده ﴿لَاتَعْبُدُوْنَ﴾ دا بیان د میثاق دے اونفی په معنیٰ د نهی سره ده ﴿وَبِالْوَالِدَيْنِ﴾ اول حق د اللّٰه تعالیٰ دے او دویم حق د بندګانو دے اوپه بندګانوکښ اول حق د مور او پلاردے ﴿تَوَلَّيْتُمْ﴾ مخ اړول په ترك د عمل سره دی ﴿وَاَنْتُمْ مُّعْرِضُوْنَ﴾ یعنی عادت ستاسواعراض کول دی ﴿اِحْسَاناً﴾ مراد دا دے چه حق خبره دِورته کوی اونرمے خبرے دِ ورسره کوی اومال دِ پرے ضرورت کښ خرچ کوی ﴿حُسْناً﴾ هغه خبرے مراد دی چه په شرع کښ خائسته وی یعنی حقه خبره وی۔اودے آیت کښ یومنهی عنه(شرك فی العبادت) ذکردے اوځلور مامورات ذکردی۔

[۸٤] دا بل میثاق دے په باره د ترك د مظالمود بندګانوکښ اوپه هغے کښ دوه منهی عنه ذکرشوی دی۔ یوسفك دماء (ناحق قتلونه کول) دویم ویستل د کورونونه په ظلم سره ﴿تَشْهَدُوْنَ﴾ شهادت په معنیٰ د علم سره دے۔

وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿٨٥﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ اشْتَرَوُا الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا بِالْاٰخِرَةِ ۡ فَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ
الْعَذَابُ وَلَا هُمْ يُنْصَرُوْنَ ﴿٨٦﴾ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ وَقَفَّيْنَا مِنْۢ بَعْدِهٖ بِالرُّسُلِ ۡ وَاٰتَيْنَا عِيْسَى
ابْنَ مَرْيَمَ الْبَيِّنٰتِ وَاَيَّدْنٰهُ بِرُوْحِ الْقُدُسِ ؕ اَفَكُلَّمَا جَآءَكُمْ رَسُوْلٌۢ بِمَا لَا تَهْوٰٓى اَنْفُسُكُمُ
اسْتَكْبَرْتُمْ ۚ فَفَرِيْقًا كَذَّبْتُمْ ۡ وَفَرِيْقًا تَقْتُلُوْنَ ﴿٨٧﴾ وَقَالُوْا قُلُوْبُنَا غُلْفٌ ؕ بَلْ لَّعَنَهُمُ اللّٰهُ بِكُفْرِهِمْ فَقَلِيْلًا

اونه دے الله تعالیٰ بے خبره دَ هغه عملونونه چه تاسوئیے کوئ(۸۵)داهغه کسان دی چه اغستے دے ژوند دنیوی په بدل دَ آخرت کښ پس سپك به نشی دَ دوی نه عذاب مقرر اونه به دَ دوی مدد کیدے شی(۸٦)اوپه تحقیق ورکړے وو مونږ موسیٰ(علیه السلام) ته کتاب اوپرله پسے اولیګل مونږ پس دَ هغه نه رسولان او ورکړی وو مونږ عیسیٰ(علیه السلام)ځوئے دَ مریم ته ښکاره دلیلونه (معجزات) اوکلك کړے وو مونږ دهٔ لره په روح پاك آیا پس هر کله چه راوړوبه تاسوته رسول هغه حکم چه نه به خوخولو نفسونوستاسو لوئ اوکړه تاسو ،پس یوه ډله دروغژنه کړه تاسو، او یوه ډله وژله تاسو(۸۷)اودوی ویل: زړونه ځمونږدَ علم نه ډك دی۔ بلکه لعنت کړے دے په دوی باندے الله تعالیٰ په سبب دَکفردَ دوی پس لږ کسان

[۸۵] په دے آیت کښ دَ دغه میثاق مخکنی نقض (ماتول) ذکرکوی په درے طریقوسره۔ قتلونه کول، دَکورونونه ویستل اودَیوبل سره په ګناه اوظلم کښ امداد کول﴿وَاِنْ يَّاْتُوْكُمْ اُسٰرٰى تُفٰدُوْهُمْ﴾ مطلب دادے چه دَکتابیانونه بنوقریظه دَ اوس قبیلے ملګرتیاکوله اوبنونضیر دَ خزرج سره ملګرتیا کوله اوجنګونه ئیے کول اوپه جنګ به ئیے مقابله کښ خپل کتابیان وژل اودَکورونونه ئے شړل اوکله به چه دَ مخالفے ډلے څوك کتابی په قید کښ راغلے نو دوی به دَ هغه دَ خلاصولو دپاره چنده اوکړله اودَ هغے به ئیے خپلو دوستانوته فدیه ورکړه خپل کتابی به ئیے دَ هغوی نه خلاص کړو۔که عوامو مشرکانو به ورته اوئیل چه داخو ستاسو دشمنان دی نو ولے په فدیه سره دوی خلاصوئے؟ نو دوی وئیل داپه تورات کښ حکم دے۔ نوییا به ورته اوئیلے شو چه وژل اوشړل اوناروا کښ امداد ولے کوئے؟ نوهغوی به وئیل چه دا دَ ډله بازئی دَ وجے نه کوؤ۔ نوبعض حکم ئیے منلواوبعض به ئیے نه منلو او﴿تَظٰهَرُوْنَ﴾ نه څلورم منهی عنه ته اشاره ده۔ اود دے نه نهی کول هم په میثاق کښ داخل دی ﴿وَهُوَ مُحَرَّمٌ عَلَيْكُمْ اِخْرَاجُهُمْ﴾ چه اخراج معمولی دے او دا حرام دے نوقتل کول خواوچت حرام دی دلته ئیے په ادنیٰ څیز ذکرکولواکتفاء اوکړله۔ یا دا اخراج دَ قتل نه سخت دے په قتل سره خوانسان ختم شی لیکن په اخراج سره ترمرګه پوره ذلیل اوشرمنده وی دَ هغے تخصیص ئیے ځکه اوکړو﴿خِزْيٌ﴾ ذلت شرمندګئ ته ویلے شی په دے کښ جزیه اغستل او دَ وطن نه شړل هم داخل دی۔

[۸٦] دا آیت تتمه ده دَمخکے خطاب په زجراوتخویف اُخروی سره اوپه دے کښ سبب ذکردے دَتیرشوی خباثتونوچه هغه دنیا غوره کول دی په آخرت باندے﴿الْعَذَابُ﴾ هغه عذاب چه مقدروی دَچادپاره نوهغه دَخپل حالت نه نه سپکیږی اګرچه دَبعض کافرانوعذاب به دَنورونه سپك وی لکه عذاب دَابوطالب چه دَهغه کیږئے دَاورنه دی چه په هغے سره به دَ هغه دماغ خوټکیږی۔

[۸۷] دَ دے ایت نه په دوه آیاتونوکښ څلورم خطاب دے په دے کښ دَ مخکے نه په ترڅئے سره دَ دوی

مَّا يُؤْمِنُونَ ﴿٨٨﴾ وَلَمَّا جَآءَهُمْ كِتَٰبٌ مِّنْ عِندِ اللَّهِ مُصَدِّقٌ لِّمَا مَعَهُمْ وَكَانُوا۟ مِن قَبْلُ يَسْتَفْتِحُونَ
عَلَى الَّذِينَ كَفَرُوا۟ ۖ فَلَمَّا جَآءَهُم مَّا عَرَفُوا۟ كَفَرُوا۟ بِهِۦ ۚ فَلَعْنَةُ اللَّهِ عَلَى الْكَٰفِرِينَ ﴿٨٩﴾ بِئْسَمَا اشْتَرَوْا۟ بِهِۦٓ
أَنفُسَهُمْ أَن يَكْفُرُوا۟ بِمَآ أَنزَلَ اللَّهُ بَغْيًا أَن يُنَزِّلَ اللَّهُ مِن فَضْلِهِۦ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ ۖ فَبَآءُو

ایمان راوړی دوی (۸۸) او هرکله چه راغے دوی ته کتاب (قرآن) دَ طرفه دَ اللّٰه تعالیٰ نه رشتنے کوونکے دے دَ هغه کتابونو چه دَ دوی سره دی او ژو دوی مخکښ دَ دینه خبرئے ورکوو (دَ اٰخری نبی دَ راتلو) کافرانو (امیانو) ته پس هرکله چه راغے دوی ته هغه څه چه دوی پیژندلو نوانکارئے اوکړودَ هغه نه پس لعنت دَ اللّٰه تعالیٰ دے په داسے کافرانو باندے (۸۹) بد دے هغه شے چه خرڅ کړی دی دوی په هغے سره ځانونه خپل چه کفرکوی دوی په هغه کتاب چه نازل کړے دے اللّٰه تعالیٰ دَ وجے دَ ضدنه په دے باندے چه نازلوی اللّٰه تعالیٰ دَ فضل خپل نه په هغه چا چه غواړی دَ بندګانوخپلونه پس اخته شودوی

خبائثونه ذکرکوی چه هغه دَانبیاء علیهم السلام تکذیب کول دی اودَهغوی قتل کول دی ﴿قَفَّيْنَا مِنۢ بَعْدِهِۦ﴾ بعده دلالت کوی په روستووالی دَ زمانے باندے او قفینا دلالت کوی په تابعدارئے دَ روستنوانبیاؤپه موسیٰ علیه السلام پسے چه ټولو تورات ته اوشریعت دَ موسیٰ علیه السلام ته دعوت ورکووُ اوپه دوی کښ آخری رسول عیسیٰ علیه السلام وؤ ﴿ٱلْبَيِّنَٰتِ﴾ سکاره حکمونه دَ تورات اومعجزات دَهغه مراد دی ﴿بِرُوحِ ٱلْقُدُسِ﴾ مراد دَ دے نه جبرئیل علیه السلام دے چه دَعیسیٰ علیه السلام دَ ولادت په وخت کښ اوپه وړوکوالی کښ اوپه وخت دَ رسالت اداکولو کښ اوپه وخت دَ آسمان ته خیژولو کښ جبرئیل علیه السلام ورسره وؤ۔ دهٔ ته روح ویلے شی ځکه چه وحی راوړی او وحی دَ دین دَپاره پشان دَ روح ده دَ بدن دپاره ﴿بِمَا لَا تَهْوَىٰٓ أَنفُسُكُمُ﴾ اشاره ده چه دین دَ اللّٰه تعالیٰ اودَ رسولانودَ هغه دَخلقودَ خواهشاتونه همیشه خلاف وی ﴿فَفَرِيقًا﴾ دا تفصیل دَ استکباردے په دوه طریقوسره ﴿تَقْتُلُونَ﴾ دا په معنیٰ دَ ماضی دے لیکن هرکله چه اوس هم ارادے لری دَ قتل دَ آخری نبی دَ دے وجے نه فعل مستقبل ئے ذکرکړو۔

[۸۸] پدے آیت کښ طریقه او سبب دَ تکذیب دَ دوی ذکردے ﴿غُلْفٌۢ﴾ دَ دے یو مراد دا دے چه دوی وئیل چه ځمونږ زړونه دَ علم لوڅی دی دَ علم نه ډك دی ستاسو علم ته څه حاجت نیشته لکه سورة حٰمٓ مؤمن (۸۳) کښ دی۔ غُلُف، په پیخ دَلام سره جمع دَ غلاف ده لوڅی ته ویلے شی بیا پیخ نه سکون جوړشو۔ اوبل مطلب دا دے چه دوی وئیل ځمونږ زړونه په پردو کښ دی ستاسو په خبرونه پوهیږو لکه سورة حٰمٓ سجده (۵) کښ او غُلُف، په سکون دَ لام سره جمع دَ اغلف ده هغه څیزچه په پرده کښ وی ﴿فَقَلِيلًا مَّا يُؤْمِنُونَ﴾ یو مراد دا دے چه لږ ایمان راوړی یعنی بعضِ څیزونه منی او بعضِ نه منی او دا ایمان منظورنه دے اوبل دا مرادده چه لږکسان دَدوی نه ایمان راوړی اواکثر بے ایمانه دی۔لعنت، په اصل کښ لرے والی ته ویلے شی اوپه قرآن کښ دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه دَ خاص رحمتونونه محروم کیدل اودَطرف دَمخلوق نه بد دعاکول دی۔

[۸۹] دَ دے آیت نه تر(۹۱) پورے پنځم خطاب دے پدے کښ دَبنی اسرائیلوبل خبائث ذکرکوی چه دوی دَ آخری نبی نه سرهٔ دَمعرفت دَ هغه نه په ضد سره انکار اوکړو بیا دوه آیاتونو کښ تتمه ده دَ دواړه

بِغَضَبٍ عَلٰى غَضَبٍ ؕ وَلِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ﴿٩٠﴾ وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ اٰمِنُوْا بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ قَالُوْا نُؤْمِنُ بِمَآ
اُنْزِلَ عَلَيْنَا وَيَكْفُرُوْنَ بِمَا وَرَآءَهٗ ۗ وَهُوَ الْحَقُّ مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَهُمْ ؕ قُلْ فَلِمَ تَقْتُلُوْنَ اَنْۢبِيَآءَ اللّٰهِ
مِنْ قَبْلُ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿٩١﴾ وَلَقَدْ جَآءَكُمْ مُّوْسٰى بِالْبَيِّنٰتِ ثُمَّ اتَّخَذْتُمُ الْعِجْلَ مِنْۢ بَعْدِهٖ

په غضب سره دپاسه دَ بل غضب نه اوخاص کافرانولره دے عذاب ذلیلوونکے (۹۰)او کوم وخت چه او ویلے شی دوی ته ایمان راوړئے په هغه کتاب چه نازل کړے دے اللّٰه تعالیٰ وائی دوی ایمان راوړو مونږ په هغه کتاب چه نازل کړے شوے دے په مونږ باندے او کفر کوی دوی په هغه چه سیوا دَ دهٔ نه دی او حال دا دے چه هغه حق دے رشتنے کوونکے دے دَ هغه کتابونو چه دَ دوی سره دی، اووایه پس ولے وژل تاسو پیغمبران دَ اللّٰه تعالیٰ دَ دینه پرواندے که ئے تاسومؤمنان (۹۱) اوپه تحقیق سره راوړی ژو تاسوته موسیٰ (علیه السلام)بنکاره دلیلونه او احکام بیا اونیولوتاسو سخے په خدائی سره پس دَ هغه نه .

خطابونو په زجرونوسره ﴿وَلَمَّاجَآءَ هُمْ﴾ دَ دے جزا پته ده یعنی دوی کفر اوکړو ﴿يَسْتَفْتِحُوْنَ﴾ یوه معنیٰ هغه ده چه لاندے لیکلے شویده۔ بله معنیٰ دا ده چه تپوس به ئے کوؤ وخت په وخت دَ امیانو کافرانونه په باره دَ دے نبی کښ اوپه دے دواړو معانوسره فتح په معنیٰ دَ علمْ سره ده۔ اوبله معنیٰ دا ده چه امداد ئے طلب کوو دَ اللّٰه تعالیٰ نه په رالیږلو دَ اخری نبی سره اودا ابن کثیرؒ دَ ابن عباس رضی اللّٰه عنهما نه روایت نقل کړے دے او دا مطلب نه دے چه په وسیله دَ حق نبی ﷺ به ئے سوال کوؤ دا دَ تحقیق نه خلاف معنیٰ ده۔ نودَ دے نه دلیل نیول دَپاره دَ وسیله بالذوات صحیح نه دی اول خودا عمل دَ یهودو دے دویم دَ سدی په روایت کښ لفظ دَ حق راغلے دے او سدی په روایت کښ ضعیف دے او دَ دے وجے نه دَ فقه حنفی په کتاب الکراهیة کښ دَا مام ابوحنیفهؒ نه روایت دے چه سوال کول په حق دَ انبیاؤ اونور مخلوق سره مکروهه دے اوتفسیراحسن الکلام کښ دَ دے اوګد تحقیق موجود دے۔

[۹۰] دا تتمه ده دَ مخکے دواړه خطابونو اوزورنه ده هغه چاته چه په ضد سره انکار کوی ﴿اشْتَرَوْا بِهٖ﴾ دَ دے دوه توجیه دی یوداچه اشتروا په معنیٰ دَ خرڅولو(تباه کولو) دے دویم داچه داپه معنیٰ دَ اغستلو(بچ کولو) دے په خپل ګمان کښ ﴿بَغْيًا﴾ په اصل لغت کښ فسادته وئیلے شی یا طلب ته وئیلے شی او دلته په معنیٰ دَ حسد او بغض اوطلب دَ بے مناسبه څیز ته وئیلے شی او داسے دَ دے سورة په (۲۱۳) او آلعمران (۱۶) اوشوریٰ (۱۴) کښ هم شته ﴿مِنْ فَضْلِهٖ﴾ مراد دَ دے نه نبوت او وحی ده چه یهودو وئیل (دَ وجے دَحسد نه) چه وحی خودَ بنی اسرائیلو حق دے او محمدﷺ خو عربی اسماعیلی دے یا مراد دَ فضل نه عام دے علم او مرتبه دینی دَیوانسان ﴿فَبَآءُوْا بِغَضَبٍ عَلٰى غَضَبٍ﴾ مراد دَ دے نه ډیر اومکرر غضبونه دی یا مراد دَ دے نه دوه غضبونه دی اول په سبب دَ کفر اودویم په سبب دَ بغی اوحسد کولو۔

فائده: کله چه عذاب سره دَ ذلت اواهانت څه صفت ذکرشی نوهغه کافرانو پورے خاص وی ځکه چه عذاب دَ جهنم دَ مؤمنانودَ ادب اوپاکولو دپاره دے دَ سپکوالی دپاره نه دے نو دلته ئے عذاب مهین په کافرانو پورے خاص کړے دے۔

[۹۱] داهم زورنه ده هغه چاته چه په کتابونودَ اللّٰه تعالیٰ کښ فرق کوی په ایمان راوړلو کښ اوپه دے

وَاَنْتُمْ ظٰلِمُوْنَ ﴿٩٢﴾ وَاِذْ اَخَذْنَا مِيْثَاقَكُمْ وَرَفَعْنَا فَوْقَكُمُ الطُّوْرَ ؕ خُذُوْا مَآ اٰتَيْنٰكُمْ بِقُوَّةٍ وَّاسْمَعُوْا ؕ قَالُوْا سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا ۗ وَاُشْرِبُوْا فِىْ قُلُوْبِهِمُ الْعِجْلَ بِكُفْرِهِمْ ؕ قُلْ بِئْسَمَا يَاْمُرُكُمْ بِهٖٓ اِيْمَانُكُمْ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿٩٣﴾ قُلْ اِنْ كَانَتْ لَكُمُ الدَّارُ الْاٰخِرَةُ عِنْدَ اللّٰهِ خَالِصَةً مِّنْ دُوْنِ النَّاسِ فَتَمَنَّوُا الْمَوْتَ اِنْ

اوتاسو ظلم کؤو (په شرك کولوسره)(۹۲)او کوم وخت چه واخستو مونږ پوخ لوظ ستاسو نه او اوچت کړو مونږ ستاسودپاسه طور (غر) اُویل مونږ، اونیسئے هغه کتاب چه درکړے مونږتاسوته په کوشش سره او واورئے په قبلولوسره اُویل دوی واوریدو مونږ اونه منومونږ، اوګلۍ شوے دے په زړونو دَ دوی کښ محبت دَ سخی په سبب دَ کفر دَ دوی، اُوایه بد دے هغه څه چه حکم کوی تاسوته په هغے سره ایمان ستاسو که تاسو مؤمنان یئی (۹۳) اُوایه که وی ستاسو دپاره کور روستنے (جنت) په نیزدَ اللّٰه تعالیٰ یواځے بغیرَ نورو خلقو نه، پس اوغواړئے مرګ (په دروغژنوباندے) که

کښ طریقه دَمناظرے ده چه دوی دعویٰ اوکړه دَ ایمان راوړلوپه خپل کتاب باندے نوپه دوی باندے ئے دوه حجتونه قائم کړل اول ﴿يَكْفُرُوْنَ بِمَا وَرَآءَهٗ﴾ اودویم حجت ﴿فَلِمَ تَقْتُلُوْنَ﴾ آه ﴿وَهُوَالْحَقُّ﴾ په دے کښ الزام دَ حجت دے په دوی باندے یعنی که تورات دَ حقانیت دَ وجے نه منئے نو قرآن هم اومنئے ﴿فَلِمَ تَقْتُلُوْنَ﴾ یعنی ایمان راوړل په تورات باندے منافی دی دَ قتل دَ انبیاؤنه اودَ دواړو په مینځ کښ تناقض دے نو چه یو نقیض وی (قتل دَا نبیاؤ) نو بل نقیض نشی کیدے (یعنی ایمان په تورات باندے)۔

[۹۲] دَ دے آیت نه تر(۹۶) پورے شپږم خطاب دے پدیکښ ذکر دے دَ دوه غټو خباثتونو، اول زورنه ده په شرك باندے بیا زورنه ده په انکاردَکتاب اللّٰه باندے اوبیا اعلان مباهله دے ﴿بِالْبَيِّنٰتِ﴾ مراد هغه نهه معجزے دی چه په سورة اعراف کښ ذکردی او دارنګ په دے سورة کښ مخکے اته انعامات هم په دے کښ داخل دی ﴿ثُمَّ اتَّخَذْتُمُ الْعِجْلَ﴾ مخکے په (۵۱) کښ په طور دَ انعام سره ذکر وؤ پسبب دَ عفو سره او دلته په طوردَ خباثت دَ هغوی سره ذکردے۔

[۹۳] په دے کښ ذکر دَ بل خباثت دَدوی دے اعراض دَ کتاب اللّٰه نه په سبب دَ محبت شرکی سره۔ ﴿سَمِعْنَا﴾ ئے اوئیل په وخت دَ اوچتوالی دَ غر کښ او ﴿عَصَيْنَا﴾ ئے روستو اوئیل یا ئے اول په ژبه اوئیل او دویم ئے په زړه کښ اوئیل یا اول ئے قبول کړو او بیا ئے څه وخت روستو په عمل سره عصیان اوکړو۔

فائده: کفر په اُیتونو دَ توحید باندے سبب دَ هغے محبت دَ سخی ووجه هغه شرك دے او محبت دَ سخی سبب دَبے لوظئی اودَاعراض وو دَکتاب اللّٰه نه ﴿اُشْرِبُوْا﴾ اشراب په اوبوسره څه مړوَل چه اثردَ اوبو هراندام ته اورسیږی نوپه دے کښ ډیره مبالغه ده دَ محبت دَ سخی سره دَ دوی په زړونوکښ ﴿قُلْ بِئْسَمَا يَاْمُرُكُمْ بِهٖٓ﴾ دا هم رد دے په دعویٰ دَا یمان دَ دوی په تورات باندے یعنی دَ عبادت دَ سخی اودَ ایمان په مینځ کښ خومنافات دے نومعلومه شوه چه دعویٰ دَ ایمان ئے دروغ ده۔

كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿٩٤﴾ وَلَنْ يَّتَمَنَّوْهُ اَبَدًۢا بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْهِمْ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِالظّٰلِمِيْنَ ﴿٩٥﴾ وَلَتَجِدَنَّهُمْ
اَحْرَصَ النَّاسِ عَلٰى حَيٰوةٍ ۛ وَمِنَ الَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا ۛ يَوَدُّ اَحَدُهُمْ لَوْ يُعَمَّرُ اَلْفَ سَنَةٍ ۚ وَمَا هُوَ
بِمُزَحْزِحِهٖ مِنَ الْعَذَابِ اَنْ يُّعَمَّرَ ؕ وَاللّٰهُ بَصِيْرٌۢ بِمَا يَعْمَلُوْنَ ﴿٩٦﴾ قُلْ مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِّجِبْرِيْلَ فَاِنَّهٗ نَزَّلَهٗ
عَلٰى قَلْبِكَ بِاِذْنِ اللّٰهِ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ وَهُدًى وَّبُشْرٰى لِلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٩٧﴾ مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِّلّٰهِ

ئے تاسو رشتینی (۹٤) او هیڅ کله دوی نه غواړی مرګ چرته په وجه د هغه عملونو چه مخکښې لیږلی دی لاسونوډ دوی، او الله تعالی پوهه دے په ظالمانوباندے (۹۵) اوخامخا اوبه مومے ته دوی لره ډیرحرص نالۍ د خلقونه په ژوند دنیوی باندے اود هغه کسانونه چه شرك ئے کړے دے، غواړی هریودَ دوی چه عمر ورکړے شی زرکاله، اونه دے هغه بچ کړونکے هغه لره د عذاب نه عمر ورکیدل، او الله تعالی لیدونکے دے هغه چه دوی څه عملونه کوی (۹٦) اُوایه څوك چه وی دُشمن د جبریل(علیه السلام) (هغه تباه دے) پس یقیناً دهٔ راوړے دے دا قرآن په زړه ستا باندے په حکم د الله تعالی سره رشتنے کوونکے دے د هغه کتابونو چه مخکښې د دهٔ نه دی اولار خودونکے دے او زیرے دے خاص ایمان والو لره (۹۷) څوك چه وی دُشمن د الله تعالی

[۹٤] پدے آیت کښ ذکرد مباهلے دے د یهودیانوسره مطلب دا دے که تاسو جنتیان یئ اوپه حقه یئ نورائځ چه الله تعالی ته عاجزی اوکړوچه څوك چه دروغژن وی نوپه هغه د مرګ راشی اوداسے په سورة جمعه (٦)کښ دی۔ دلته په (۸۰او۱۱۱) کښ د دوی دعویٰ د جنت ذکرده د دے وجے نه دلته ئے ﴿الدَّارُ الْاٰخِرَةُ﴾ ذکرکړو اوسورة جمعه کښ دوی دعویٰ د ولایت کړے وه ځکه هلته ئے اولیاء ذکرکړے دے۔ ﴿فَتَمَنَّوُا الْمَوْتَ﴾ مراد د دے نه طلب د مرګ دے په دروغژن باندے او دا تفسیر ابن کثیر غوره کړے دے او بل ئے رد کړے دے۔

[۹۵] په دے کښ دلیل یقینی دے په اخبارد الله تعالی سره چه دوی مباهله نشی کولے ﴿وَلَنْ يَّتَمَنَّوْهُ﴾ تمنا خوطلب په زړه سره دے لیکن دلته مراد په ژبے سره غوختل دی ﴿اَيْدِيْهِمْ﴾ مراد د دے نه نفسونه دی لیکن اکثرکارونه په لاسونوسره کیږی د دے وجے نه ایدی ئے ذکرکړو۔

[۹٦] دا دویمه وجه د انکارده ﴿اَحْرَصَ النَّاسِ﴾ هر انسان طبعی طورسره ژوند غواړی لیکن یهود ډیرحرصناك دی ﴿وَمِنَ الَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا﴾ مراد د دے نه مجوسیان او امیان مشرکان دی چه عقیده د بعث بعدالموت نه لری، زرکاله په دے وجه ذکرشول چه په هغه زمانه کښ دا مشهوره دُعاوه چه ستا د زرکاله عمر نصیب شی۔ او دا یهودیانو د مجوسیانونه عادت اغستلے وؤ۔

[۹۷] د دے آیت نه تر(۱۷٦) پورے دویمه حصه ده په باره د رشتینوالی د رسول کښ په جواباتو د نهو اعتراضونو سره اوپه دے حصه کښ څلور بابونه دی۔ اول باب د دے آیت نه تر(۱۲۳) پورے دے ۔ پدے کښ اول د پنځه سوالونو جوابات دی بیا پنځه زورنے دی بیا د دوو سوالونوجوابونه دی۔ بیا پنځه خبرے دی متعلق د رسالت سره اوپدے آیت کښ د اول سوال جواب دے۔سوال داووچه په تاباندے وحی جبرئیل

وَمَلٰٓئِكَتِهٖ وَرُسُلِهٖ وَجِبْرِيْلَ وَمِيْكٰىلَ فَاِنَّ اللّٰهَ عَدُوٌّ لِّلْكٰفِرِيْنَ ﴿۹۸﴾ وَلَقَدْ اَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ اٰيٰتٍۢ بَيِّنٰتٍ ۚ
وَمَا يَكْفُرُ بِهَآ اِلَّا الْفٰسِقُوْنَ ﴿۹۹﴾ اَوَكُلَّمَا عٰهَدُوْا عَهْدًا نَّبَذَهٗ فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ ۭ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۰۰﴾
وَلَمَّا جَاۗءَهُمْ رَسُوْلٌ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ مُصَدِّقٌ لِّمَا مَعَهُمْ نَبَذَ فَرِيْقٌ مِّنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ ۤ كِتٰبَ
اللّٰهِ وَرَاۗءَ ظُهُوْرِهِمْ كَاَنَّهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۰۱﴾ وَاتَّبَعُوْا مَا تَتْلُوا الشَّيٰطِيْنُ عَلٰي مُلْكِ سُلَيْمٰنَ ۚ وَمَا كَفَرَ

اودَ ملائکودَ هغه اودَ رسولانودَ هغه اودَ جبریل(علیه السلام) اودَ میکائیل(علیه السلام) پس یقیناً الله تعالی دشمن دے دَکافرانو (۹۸) اوپه تحقیق سره نازل کړی دی مونږ تاته آیاتونه بښکاره (مضمون والا) اونه کوی کفرپه هغے سره مګرنافرمان خلق (۹۹) ا یا اوهر وخت چه لوظ اوکړی دوی لوظ، مات کړی هغه یوه ډله دَ دوینه، بلکه ډیرد دوی نه ایمان نه لری (۱۰۰)اوهرکله چه راغے دوی ته رسول دَ طرف دَ الله تعالی نه تصدیق کوونکے دے دَ هغه کتابونو چه دَ دوی سره دی نو اوغورځوو یوے ډلے دَ هغه کسانونه چه ورکړے شوے دے دویته کتاب، کتاب دَ الله لره روستو دَ شاګانو خپلو نه ګویا که دوی نه پوهیږی (۱۰۱) اوتابع شول دوی دَ هغه څه چه لوستلوبه شیطانانو (جنی اوانسی) په زمانه دَ بادشاهئے دَ سلیمان(علیه السلام) کښ اوکفر نه ووکړے

راوړی اوهغه محمونږ دُشمن دے او وجه دَ دشمنئے دا ده چه دهٔ زمونګ نه وحی بنی اسماعلیوته نقل کړه نومونږدَهغه راوړے شوے کتاب اورسالت نه منو، نوجواب اوشوحاصل جواب دا دے چه جبرائیل(علیه السلام)دا وحی په اذن دَالله تعالی سره راوړے ده اوپه دے وحی (قرآن) کښ اعلیٰ صفات دَصِدق دی، مصدِّق، هدیً، بشریً۔ معنٰی دَبشریٰ داده چه مؤمنان دَ دے په آوریدلواولوستلوسره هروخت داسے خوشحالیږی چه خوشحالی ئے په مخونو کښ بښکاره کیږی۔

[۹۸] په دے ایت کښ زورنه ده په دُشمنیٔ دَجبرائیل باندے اودا بل جواب دے۔ مطلب دا دے چه دَجبرائیل دُشمنی دَالله تعالی اودَهغولورسولانواودَ هغولوملائکودَ دُشمنیٔ سره یوشان ده اوداکار دَکفردے ﴿وَجِبْرِيْلَ وَمِيْكٰىلَ﴾ دوی په ملائکه کښ داخل دی لیکن دَ دوی خاص ذکرئے دَ دے وجے نه کړے چه بحث په دوی کښ وو دَ یهودیانوسره۔

[۹۹] پدے آیت کښ زورنه ده په انکار دَ قرآن کریم اودَ هغے په وجه فسق اعتقادی دے۔ اودا هم جواب دے چه دا آیات بینات په واسطه دَ جبرائیل سره نازل شویدی اوکفر دَ دے سبب دے دَ فسق اعتقادی۔

[۱۰۰] په دے کښ زورنه ده په بے لوظئے دَدوی باندے اوپه عدم دَ ایمان۔ نوداهم دَ جواب سره متعلق دے چه دوی هرعهد ماتوی اوبے ایمانی کوی نو دوی ولے په جبرائیل باندے اعتراض کوی ﴿بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ﴾ دا اکثرهم دغه فریق دے اشاره ده چه فریق لګ نه دی ډیردی یا دا اکثرغیردی دَ دغه فریق نه یعنی فریق خو عهد منلے دے خو مات کړیدے اوډیرپه دیکښ داسے دی چه دَ سرهٔ عهد نه منی۔ اودلته هغه عهود مراد دی چه په دے سورة کښ مخکے باربار په لفظ میثاق سره ذکرشویدی۔

[۱۰۱] دا زورنه ده په دے باندے چه دوی په کتاب خپل عمل پریخودو او دَ دے رسول نه ئے انکار اوکړو اوداهم په سبب دَ دشمنئے دَجبرئیل سره۔

سُلَيْمٰنُ وَلٰكِنَّ الشَّيٰطِيْنَ كَفَرُوْا يُعَلِّمُوْنَ النَّاسَ السِّحْرَ ۗ وَمَآ اُنْزِلَ عَلَى الْمَلَكَيْنِ بِبَابِلَ هَارُوْتَ
وَمَارُوْتَ ؕ وَمَا يُعَلِّمٰنِ مِنْ اَحَدٍ حَتّٰى يَقُوْلَآ اِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ فَلَا تَكْفُرْ ؕ فَيَتَعَلَّمُوْنَ مِنْهُمَا
مَا يُفَرِّقُوْنَ بِهٖ بَيْنَ الْمَرْءِ وَزَوْجِهٖ ؕ وَمَا هُمْ بِضَآرِّيْنَ بِهٖ مِنْ اَحَدٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ وَيَتَعَلَّمُوْنَ
مَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنْفَعُهُمْ ؕ وَلَقَدْ عَلِمُوْا لَمَنِ اشْتَرٰىهُ مَا لَهٗ فِى الْاٰخِرَةِ مِنْ خَلَاقٍ ؕ وَلَبِئْسَ
مَا شَرَوْا بِهٖٓ اَنْفُسَهُمْ ؕ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ۝ وَلَوْ اَنَّهُمْ اٰمَنُوْا وَاتَّقَوْا لَمَثُوْبَةٌ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ خَيْرٌ ؕ

سلیمان(علیه السلام) اولیکن شیطانانو کفر کړو چه خودلوئے خلقوته جادو، اوهغه څه چه نازل کړے شوے ؤوپه دَ ؤو ملائکو باندے په بابل ښار کښ چه هاروت اوماروت ؤو اوخودنه نه کوله دے دواړو هیڅاته ترڅو پورے چه دوی به اوویل (په طریقه دَ نصیحت) یقیناً مونږستاسو د پاره امتحان یو پس کفر مکوه (به سحرسره) پس ابزده کړوبه دوی دَ دے دواړونه هغه څه چه جدائی به راوپیدا کړی دوی په هغے سره په مینځ دَ سړی اوذ ښځے دَ هغه کښ، او نه وو دوی نقصان ورکوونکی په هغے سره هیڅا ته مګرپه حکم دَ اللّٰه تعالیٰ سره اوابزده کړو به دوی هغه څه چه نقصان به ئے ورکړو دویته اونفع به ئے نه ورکوله دویته اوپه تحقیق سره دوی پوهیدل چه خامخا چاچه واخستو سحرنیشته دهٔ لره په اخرت کښ هیڅ حصه او خامخا بد دے هغه څه چه دوی خرڅ کړی دی په هغے سره ځانونه خپل که دوی پوهیدے(۱۰۲) او که چرے دوی ایمان راوړے وے اوڅان ئے ساتلے وے (دَ شرك اوجادونه) نو خامخا بدله دَ طرف دَ اللّٰه تعالیٰ نه غوره ده،

فائده۱: که کتاب په ریښمو کښ محفوظ ساتی اوعزت ئے کوی لیکن عمل پرے نه کوی نودیته غورځول وائی۔ دغسے کار یهودیانودَ خپل کتاب سره کړے وو۔

فائده۲: په دے آیت کښ دلیل دے چه کوم عالم په علم خپل عمل نکوی نوهغه پشان دَ امیانو جاهلانو دے۔

[۱۰۲] په دے آیت کښ دَ دویم او دَ دریم سوال جوابونه دی اول سوال په باره دَ سلیمان علیه السلام کښ دے سوال دا وؤچه سلیمان علیه السلام خوتهٔ اے پیغمبره په سلسله دَ انبیاؤ کښ ذکرکوے اوحال دا چه هغه جادوګرووو۔ نوته دَ جادوګرو صفت کوے نومعلومه شوه چه ته نبی نه ئے؟ نودَ هغے جواب اوشو چه سلیمان علیه السلام جادوګر نه وو شیطانانو جادوکوو۔ او دَ هغے تفصیل دا دے چه سیلمان علیه السلام دَجادو کتابونه جمع کړه اوشیاطین ئے قیدکړل اوخپله خاصه کمره کښ دَ تخت دَ لاندے هغه کتابونه خښ کړل دَ دے دپاره چه جادو ختم شی هرکله چه سلیمان علیه السلام وفات شو نوشیطانانوخلقوته اُوئیل چه سلیمان علیه السلام په جادو سره بادشاهی کوله او هغه کتابونه ئے راویستل اوخلقو دَ جادو علم شروع کړو ﴿مَاتَتْلُوا الشَّيَاطِيْنُ﴾ شیطان انسی اوجنی دواړه مراد دی یا صرف انسی ځکه چه دَ جنی نه انسان زده کړه نشی کولے ﴿عَلٰى مُلْكِ سُلَيْمَانَ﴾ په زمانه دَ بادشاهئے دَ هغه کښ یا په مقابله دَ بادشائ دَ هغه کښ۔ ﴿يُعَلِّمُوْنَ النَّاسَ﴾ دلیل دے چه تعلیم دَ سحر دَا شاعت او عمل دَپاره کفر دے ﴿وَمَآ اُنْزِلَ عَلَى

لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ﴿١٠٣﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَقُوْلُوْا رَاعِنَا وَقُوْلُوا انْظُرْنَا وَاسْمَعُوْا ؕ وَلِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابٌ
اَلِيْمٌ ﴿١٠٤﴾ مَا يَوَدُّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ وَلَا الْمُشْرِكِيْنَ اَنْ يُّنَزَّلَ عَلَيْكُمْ مِّنْ خَيْرٍ مِّنْ

که دوی پوهیدے (۱۰۳) اے ایمان والو: مه وائے راعنا اووائے انظرنا، او واورئ (په قبولیت سره) او کافرانو لره عذاب دے درد ناك (۱۰٤) نه غواړی کافران دَکتاب والونه اونه دَ مشرکانونه چه نازل کړے شی په تاسو باندے څه خیر (صافه کلمه) دَ طرفه دَ

الْمَلٰٓئِكَةِ﴾ دا دَ دریم سوال جواب دے سوال داوؤ چه تاجادوته کفراُوئیل اوحال داچه دا اسمانی علم دے اللّٰه تعالیٰ ملائکوته خودلے وو اوته دے علم ته کفر وائے نومعلومه شوه چه ته نبی نه ئے ؟ جواب اوشوچه دا علم ملائکوته ورکړے شوے وو دَخلقودَ امتحان دپاره، نه دَ دے دپاره چه جائز دے نو هغوی به خلقوته دَدے بیان اوکړو چه فلانی الفاظ اوفلانئ طریقه اوشی نودا سحردے ځان ترینه بچ کړئے۔ نودے خلقوبه زده کړو اوعمل به ئے پرے کوؤ۔ اودا غوره قول دے په دے کښ نوراقوال شته هغه په تفسیراحسن الکلام کښ اوګورئے لیکن هغه قصه چه بعضے مفسرینو لیکلے ده چه په هغے کښ ذکر دَ بدکارئے دَ زهره سره اودَ زهره نه ستورے جوړیدل او دوی له دَ بابل په کوهی کښ سزا ورکول دا ټول اسرائیلیات دی ﴿وَمَا يُعَلِّمٰنِ مِنْ اَحَدٍ حَتّٰى يَقُوْلَآ﴾ یعنی اول به ئے ورته دَ نصیحت په طور سره اوویل چه مونګ ستاسودَپاره امتحان یویعنی مه ایزده کوئے اوعمل ورباندے مه کوئے ﴿مَا يُفَرِّقُوْنَ﴾ یومطلب دا دے چه جادوبه ئے اوکړو دَ ښځے اوخاوند جنګ اواختلاف به ئے پیداکړو دویم مطلب دا دے چه دوی به جادو زده کړونوکافر اومشرك به شوں نونکاح به ئے مات شو﴿وَمَا هُمْ بِضَآرِّيْنَ بِهٖ مِنْ اَحَدٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ﴾ دا دواړه حملے دلیل دے چه په سحرکښ اللّٰه تعالیٰ تاثیر اچوی اثر دَ اللّٰه تعالیٰ په حکم سره کوی دَ چا نظربندکړی دَ چا ژبه بندکړی دَ چا خیال او دَ چاعقل ګډوډکړی لیکن سحرحرام اوباطل اوکفردے ﴿وَيَتَعَلَّمُوْنَ مَا يَضُرُّهُمْ﴾ پدے کښ نورو عملونوته اشاره ده چه دین ته نقصان رسوی فلسفه، نجوم اوکهانت وغیره۔

[۱۰۳] دا دعوت دَد وی دے ایمان ته اوتوبے کولوته دَ ټولو ګناهونونه په دوه شرطونو سره اول حقیقی ایمان دویم تقویٰ دَ کفر اوشرك اوسحر وغیره نه۔

[۱۰٤] دا دَ ځلورم سوال جواب دے سوال داوؤچه اول به صحابه کراموپیغمبرته راعناوئیل اوپه دے کښ ئے دَ یهودیانوتقلید کوؤاومقصد دَ دوی داسے معنیٰ وه چه ځمونږلحاظ اوکړه۔ اودا معنیٰ صحیح ده بیا یهودیانو دا لفظ وئیل شروع کړل او مطلب ئے غلط وؤ۔ نواللّٰه تعالیٰ منع اوکړه نو دوی اعتراض اوکړو چه مونږ سره ضد او عناد کوے نومعلومه شوه چه ته نبی نه ئے دَ جواب حاصل دا دے چه دا لفظ اللّٰه تعالیٰ دَ دے وجے نه منع کړے دے چه په دے کښ دَ شرك اوکفر وهم دے دَ ضد دَ وجے نه نه دے منع شوے ۔ تفصیل دَ راعِنَا دا دے ۔ دَ دے لفظ صحیح معنیٰ دا ده چه دا دَ رعایت نه دے اوماتحت الاسباب رعایت دا دے چه په خبرو کښ توجه کولو کښ دَ چالحاظ اوکړے شی او دا معنیٰ دَ صحابه کرامو مراد وه اونورے معنے دَ کفر اودَ شرك دی هغه دا دی (۱) رعایة ساتنه کول مافوق دَ اسبابونه او دَ اللّٰه تعالیٰ نه سیوا بل ساتونکے داسے نیشته لکه سورة انعام (۱۰۷) کښ دی (۲) راعنا په معنیٰ دَکم عقل دَ رعونت نه دے

رَبِّكُمْ ؕ وَاللّٰهُ يَخْتَصُّ بِرَحْمَتِهٖ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ﴿١٠٥﴾ مَا نَنْسَخْ مِنْ اٰيَةٍ اَوْ نُنْسِهَا
نَاْتِ بِخَيْرٍ مِّنْهَآ اَوْ مِثْلِهَا ؕ اَلَمْ تَعْلَمْ اَنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيْرٌ ﴿١٠٦﴾ اَلَمْ تَعْلَمْ اَنَّ اللّٰهَ لَهٗ

رب ستاسو نه اواللّٰه تعالیٰ خاص کوی په رحمت خپل سره چالره چه اوغواړی، اواللّٰه تعالیٰ لوئے فضل والا دے (۱۰۵) هغه چه منسوخ کړو مونږ یوایت یائے هیرکړوستانه نو راوړو مونږ غوره دَ هغے نه یاپه شان دَ هغے، اُیاته نه پوهیږے چه یقیناً اللّٰه تعالیٰ په هرڅه باندے قادر دے (۱۰۶) اُیاته نه پوهیږے چه یقیناً خاص اللّٰه تعالیٰ ئے

اونبیﷺ ته دا نسبت کول کفر دے (۳) دا په اصل کښ راعِینَا وو په معنیٰ دَ شپونکی او دا نسبت هم نبی ته کفردے دَوجے دَ بے ادبئے نه (٤) راعِی دَ مصر په اصطلاح کښ (نمر) معبود اکبرته وئیلے کیدے شواوداپه مصرکښ په زمانه دَ فرعون کښ لوئے معبود وؤ۔ یهودیانوهغه خبرے ته اشاره کوله اوپه مؤمنانو کښ ئے دَ شرکی کلماتواشاعت کول غوختل دَ کافرکولو دَپاره نومعلومه شوه چه راعِنَا مشترك لفظ دے او دا موهم دَ شرك دے نو که څوك دَ دے نه روستنئے معنے اراده کوی نوعین شرك دے اوکه اوله معنیٰ اراده کوی نوموهم لفظ دے او ویل ئے حرام دی۔

فائده: دے ایت کښ دلیل دے په دے خبره باندے چه کوم لفظ کښ وهم وی دَکفراوشرك اوشرغ کښ دَ هغے دَجواز دپاره بنکاره دلیل نه وی نودَ هغے وئیل حرام دی۔ لکه مَاشَاءَ اللّٰه وَشِئتَ، دَافِعُ البَلَاءِ وَالوَبَاءِ۔ (درود تاج) عبدالنبی عبد الرسول نومونه، په دُعاکښ په حق دَ فلانکی په برکت دَ فلانکی وئیل، لفظ دَ حضور اوحضرت غائب شخص ته وئیل داټول موهمات دی دَ دے نه ځان ساتل لازم دی۔

[۱۰۵] دے کښ زورنه ده په عناد دَ یهودیانوباندے۔ اوپه دیکښ دَمخکے حکم دَپاره دوه وجے ذکرکوی اوله وجه سخت بُغض اوحسد دَیهودیانوستاسوسره نودَ هغوی تقلید مه کوئے۔ دویمه وجه په تاسودَ اللّٰه تعالیٰ خاص رحمت اوفضل دے نودَ تقلید دَ یهودیانوپه وجه دا په ځان باندے مه بندوئے ﴿مِنْ خَيْرٍ﴾ هرانعام مراد دے که وحی وی او که علم دَ حق وی او که پاکه کلمه وی لکه لفظ دَ انظرنا۔

[۱۰۶] پدے ایت کښ جواب دَپنځم سوال دے دوی وئیل چه ته کله یوحکم کوے اوکله دَ هغے خلاف کوے نو معلومه شوه چه ته پخپل کارکښ پریشان ئے پیغمبرنه ئے اودا سوال هم دَ راعنا بدلولونه پیداشو۔ جواب اوشو چه دَ احکاموبدلول دَ اللّٰه تعالیٰ دَ قدرت نخه ده اوبادشاهی دَ اللّٰه تعالیٰ ده نواحکام بدلول دَ هغه اختیار دے۔ نسخ، دَ متقدمینو علماؤ په نیزمطلق بدلولو ته وائی نوپدے معنیٰ دَ پنځه سوه نه زیات اُیاتونه منسوخ دی اوپه نیزدَمتأخرینوعلماؤ حکم بدلول یا تلاوت ختمول دی پداسے طریقه چه هغه حکم بالکل ختم شی اوپه هغے باندے عمل کول منع وی پدے معنیٰ باندے دَ دوی په نیزشل اُیاتونه منسوخ دی اودَ شاه ولی اللّٰه په نیزصرف پنځه اُیاتونه منسوخ دی۔ اوځمونږ مشائخو په نیز په دغه پنځه اُیاتونوکښ داسے معنیٰ شته چه په هغے سره نه منسوخ کیږی اګرچه په یو معنیٰ سره منسوخ دی۔نو مطلب دا دے چه آیت منسوخه دَ قرآن دَ حکم نه بالکل نه خالی کیږی ﴿مَا نَنْسَخْ مِنْ آيَةٍ اَوْ نُنْسِهَا﴾ آیة نه مراد تلاوت دَ آیت یا حکم دَ هغے یا دواړه دی فرق په مینځ دَ نسخ اوانساء کښ په خوطریقوسره دے۔ اوله طریقه نسخ ختم

مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَمَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ ﴿١٠٧﴾ اَمْ تُرِيْدُوْنَ اَنْ تَسْـَٔلُوْا
رَسُوْلَكُمْ كَمَا سُئِلَ مُوْسٰى مِنْ قَبْلُ ؕ وَمَنْ يَّتَبَدَّلِ الْكُفْرَ بِالْاِيْمَانِ فَقَدْ ضَلَّ سَوَآءَ السَّبِيْلِ ﴿١٠٨﴾ وَدَّ
كَثِيْرٌ مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ لَوْ يَرُدُّوْنَكُمْ مِّنْۢ بَعْدِ اِيْمَانِكُمْ كُفَّارًا ۚ حَسَدًا مِّنْ عِنْدِ اَنْفُسِهِمْ مِّنْۢ بَعْدِ
مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْحَقُّ ۚ فَاعْفُوْا وَاصْفَحُوْا حَتّٰى يَاْتِيَ اللّٰهُ بِاَمْرِهٖ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿١٠٩﴾ وَاَقِيْمُوا

بادشاهي دَ اسمانونو او دَ زمکے ده، اونیشته تاسو لره سیوا دَ الله تعالی نه هیڅ څوك دوست اونه مدد ګار (۱۰۷) ایا تاسو غواړے چه تپوسونه اوکړے (په طریقه دَ اعتراض) دَ رسول ستاسونه لکه څنګ چه تپوسونه کیدے شول دَ موسیٰ(علیه السلام) نه دَ دینه مخکښ، اوچاچه واخستو کفرپه بدله دَ ایمان کښ پس یقیناً واوړیدودَ برابر لارے نه (۱۰۸) غواړی (په طریقه دَ ارمان) ډیرډَ کتاب والونه چه واړ وی تاسو روستو دَ ایمان ستاسونه کفرکوونکی په وجه دَ حسد (چه پیداشوے دے) دَ نفسونو دَ دوی نه روستو دَ دینه چه بنکاره شو دوی ته حق، پس معافی کوئے اوبے پروا شئے دَ دوینه تردے پورے چه راوړی الله تعالی حکم خپل، یقیناً الله تعالی په هرڅیز باندے قادردے (۱۰۹)اوپابندی کوئے

کول دَحکم یا دَتلاوت یا دَدواړو اوانساء پڅائے باندے باقی پریخودل، دویم فرق بدلول دَ تلاوت صرف او انساء بدلول دَ حکم دریم فرق دَ مخکے په عکس سره دے۔ څلورم بدلول دَ آیت په بل سره او انساء پریخودل بغیر دَ بدل راوړلونه ﴿بِخَيْرٍ مِّنْهَا﴾ خیرهغه دے چه ثواب اومنفعت اومصلحت اوسهولت ئے ډیر وی ﴿اَوْ مِثْلِهَا﴾ په عمل یا ثواب کښ دَ مخکے برابر وی لیکن مصلحت سره بښهٔ موافق وی۔

[۱۰۷] دا آیت دلیل دے چه نسخ دَالله تعالی په اختیارکښ ده ځکه چه بادشاهی دَ هغه ده او قانون دَ بادشاه دَ رضا موافق وی اوپه دے کښ رد دے په شرك فی التصرف باندے ﴿وَلِيٍّ﴾ دلته معنیٰ مالك دَنفع اوضرر اوحفاظت کوؤنکے اونظام چلوونکے۔

[۱۰۸] دا اول زجردے زورنه ده په اعتراض کولوسره په نبی ﷺ باندے۔ خطاب دے دَ یهودیانوسره چه هغوی په دے نبی ﷺ شبهات او اعتراضونه کول لکه څنګ چه دَ دوی مشرانو په موسیٰ علیه السلام باندے دَ هغه دَ خفه کولو دپاره اعتراضونه کول۔ ﴿وَمَنْ يَّتَبَدَّلِ الْكُفْرَ بِالْاِيْمَانِ﴾ مراد دَ تبدل نه کفرکول دی په اعتراضونو کولو سره او ایمان نه راوړل دی۔ په آیت کښ احتمال شته چه مشرکانوته خطاب وی یا صحابوته خطاب وی لیکن اول قول غوره دے۔

[۱۰۹]دادویمه زورنه ده په خلقومرتدکولوسره اوپه داسے وخت کښ ئے مؤمنانوته پنځه آداب خودلی دی۔ پدے آیت کښ دَ هغے نه دوه ذکردی ﴿حَسَدًا﴾ په دے کښ اشاره ده چه داکاردَ دوی په دینداړئے باندے بنا نه وؤبلکه صرف دَضداوعنادپه وجه سره وؤ ﴿مِنْ عِنْدِ اَنْفُسِهِمْ﴾ یعنی منشأ دَ حسد هم دَدوی خبیث نفسونه اوخواهشات دی ﴿فَاعْفُوْا وَاصْفَحُوْا﴾ مراد دَ عفونه معافی کول دی دَ هغه بدو اقوالواوافعالونه چه ستاسوپه باره کښ صادریږی اودَصفح نه دَ دوی دَ دوستانے اودَ محبت نه مخ ګرځول مراد دی ﴿حَتّٰى يَاْتِيَ اللّٰهُ بِاَمْرِهٖ﴾ مراد دَ امرنه امردَ قتال دے دَ یهودیانوسره لیکن هرکله چه اذن دَ قتال دَ دوی راغلونوپه هغے سره دے آیت ته منسوخ نشی ویلے کیدے ځکه چه په منسوخ کښ غایة

الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ ؕ وَمَا تُقَدِّمُوْا لِاَنْفُسِكُمْ مِّنْ خَيْرٍ تَجِدُوْهُ عِنْدَ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿١١٠﴾
وَقَالُوْا لَنْ يَّدْخُلَ الْجَنَّةَ اِلَّا مَنْ كَانَ هُوْدًا اَوْ نَصٰرٰى ؕ تِلْكَ اَمَانِيُّهُمْ ؕ قُلْ هَاتُوْا بُرْهَانَكُمْ اِنْ
كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿١١١﴾ بَلٰى ۚ مَنْ اَسْلَمَ وَجْهَهٗ لِلّٰهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ فَلَهٗۤ اَجْرُهٗ عِنْدَ رَبِّهٖ ۪ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا
هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿١١٢﴾ وَقَالَتِ الْيَهُوْدُ لَيْسَتِ النَّصٰرٰى عَلٰى شَيْءٍ ۖ وَّقَالَتِ النَّصٰرٰى لَيْسَتِ الْيَهُوْدُ عَلٰى شَيْءٍ ۙ
وَّهُمْ يَتْلُوْنَ الْكِتٰبَ ؕ كَذٰلِكَ قَالَ الَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ مِثْلَ قَوْلِهِمْ ۚ فَاللّٰهُ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فِيْمَا

دَ مانځه او ورکولئ زکوٰة اوځه چه مخکښے اولیږئے دپاره (دَ فائدے) دَ ځانونوخپلوځه نیك عمل اوبه مومئ (بدله دَ هغے) په نیزدَ اللّٰه تعالیٰ یقیناً اللّٰه تعالیٰ هرهغه عمل چه کوئے تاسو وینی(۱۱۰) او دوی وائی هیڅرے به داخل نشی جنت ته مګرهغه څوك چه یهودی وی یا نصرانی وی، دا آرزوګانے (بے دلیله خبرے) دَ دوی دی، اُوایه راوړئے یقینی دلیل خپل که ئے تاسو رشتینی (۱۱۱) (داسے نده) بلکه چا چه تابع کړوځان خپل خاص اللّٰه تعالیٰ ته او دے خائسته عمل والا ؤو، پس دهٗ لره ثواب دَ عمل دَ دهٗ دے په نیزدَ رب دَ دهٗ او نه به وی هیڅ ویره، په دوی باندے اونه به دوی غمژن کیږی (۱۱۲) او وائی یهودیان نه دی نصاریٰ په هیڅ دین باندے او وائی نصاریٰ چه نه دی یهودیان په هیڅ دین باندے او دوی لولی کتاب نه دغسے ویل هغه کسانوچه نه پوهیدل په شان دَ وینا دَ دوی پس اللّٰه تعالیٰ به فیصله اوکړی په مینځ دَ دوی کښ په ورځ دَ قیامت په هغه څه کښ

(انتها) دَحکم ذکرنه وی اودلته خوپه حتی سره ذکرده۔

[۱۱۰] په دے آیت کښ درے آداب نورذکردی ﴿لِاَنْفُسِكُمْ﴾ په دے کښ مراد هغه عمل دے چه بل چاته دَ هغے ثواب نوی بخلے شوے ﴿مِنْ خَيْرٍ﴾ خیر هغه قول اوفعل دے چه په کتاب او سنت سره دَ هغے بنهٗ والے ثابت وی پدے لفظ سره اشاره ده چه بدعمل مثلاً بدعت وفسق سره هیڅ ثواب نه ملاویږی۔

[۱۱۱] دا دریمه زورنه ده، ځان له جنت خاص کول بے دَ سبب نه چه توحید دے۔ یعنی عقیده دَ توحید هم نه لری او ورسره دَ خپلوګناهونوسزاهم نه منی۔ او جنت دوی په قومیت پورے خاص کړے وؤ۔ اَودپاره دَ تفصیل اوتقسیم دے یعنی یهودو دَ ځان دَپاره تخصیص کوؤ اونصاریٰ دَ ځان دپاره تخصیص کوؤ﴿اَمَانِيُّهُمْ﴾ جمع دَامنیة ده دَ نفس خواهش چه دلیل شرعی ورسره نه وی یعنی صرف دا چه مونږ صاحبزادګان اوپیرزادګان یو نوجنت زمونږ دے ﴿بُرْهَانَكُمْ﴾ یعنی دلیل چه په هغے سره دعویٰ یقینی ثابتیږی او هغه دلیل شرعی دے۔

[۱۱۲] په دے کښ رد دے دَ هغوی په خواهشاتوباندے اوبیان دَبرهان دے چه جنت په توحید اوپه اتباع دَ رسول اللّٰه ﷺ سره حاصلیږی ﴿وَجْهَهٗ﴾ مراد دَ مخ نه ذات دے یا قصد کول دی اواَسْلَمَ، په معنیٰ دَانقیاد یا دَ اخلاص کولو دے او اشاره ده نفی دَ شرك ته په عقیده کښ ﴿وَهُوَ مُحْسِنٌ﴾ مراد دَ احسان نه تابعداری دَ سنت ده۔

كَانُوْا فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ﴿١١٣﴾ وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ مَّنَعَ مَسٰجِدَ اللّٰهِ اَنْ يُّذْكَرَ فِيْهَا اسْمُهٗ وَسَعٰى فِيْ خَرَابِهَا ؕ
اُولٰٓئِكَ مَا كَانَ لَهُمْ اَنْ يَّدْخُلُوْهَآ اِلَّا خَآئِفِيْنَ ؕ لَهُمْ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ وَّلَهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿١١٤﴾
وَلِلّٰهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ ۚ فَاَيْنَمَا تُوَلُّوْا فَثَمَّ وَجْهُ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ﴿١١٥﴾ وَقَالُوا اتَّخَذَ اللّٰهُ

چه دوی په هغے کښ اختلاف کوو (۱۱۳) اوخوك لوئے ظالم دے دَ هغه چانه چه منع کوی دَ جماعتونو دَ اللّٰه تعالیٰ دا چه یادکړے شی په هغے کښ نوم دَ اللّٰه تعالیٰ (په توحید سره) اوکوشش کوی په خرابولودَ هغے کښ دغه کسان نه ده لائق دوی لره چه دوی داخل شی جماعتونوته مګرویره کڅونکی، دوی لره په دنیاکښ شرمندګی ده اودوی لره په آخرت کښ عذاب لوے دے (۱۱٤) اوخاص اللّٰه لره مشرق او مغرب دے، پس کوم طرف ته چه کرځوئے مخ خپل نو هلته مخه دَ اللّٰه تعالیٰ ده یقیناً اللّٰه تعالیٰ فراخ فضل والادے اوپوهه دے (په هرڅه) (۱۱۵) اودوی وائي چه نیولے دے اللّٰه تعالیٰ

[۱۱۳] دا ځلورمه زورنه ده دَ یَوبل دَ حق کتاب اودین نه انکارکول لکه څرنګ چه بعضِ ملایان فرعی اختلافات دے مقام ته اورسوی چه یوبل ته بدوائی او دَ داسے علماؤ مثال دَ امیانودے ماجدی هم دَ دے په مثال کښ حنفیه شافعیه اشعریه او ماتریدیه لیکلی دی چه دَیو بل تذلیل کوی ﴿عَلٰى شَيْءٍ﴾ مراد دَ دے هغه دین دے چه په هغے سره نجات حاصلیږی ﴿الْكِتَابَ﴾ جنس کتاب مراد دے یعنی تورات او انجیل اوپه دے وخت هغه مجموعه ته عهدنامه عتیق وئیلے شی ﴿مِثْلَ قَوْلِهِمْ﴾ مثلیت په دعویٰ او رد کولو بے دلیله کښ مراد دے او مراد دَ دے نه مشرکان غیرکتابیان دی چه ټول کتابیان ګمراه ګنړی۔

[۱۱٤] دا پنځمه زورنه ده ۔دَ مسجدنه بیان دَتوحید منع کول اومؤحدین منع کول ډیرظلم دے ذکردَ نوم دَ اللّٰه تعالیٰ نه مراد ذکر دے په طریقه شرعی سره یعنی ذکرپه طریقه دَ اخلاص اوتوحید او په طریقه دَنبیﷺ سره۔ اوخرابی دَ مسجد دَ توحید نه خالی کیدل دی یعنی په مسجدکښ شرك کول اوبدعات کول دی ﴿مَسَاجِدَ﴾ جمع ئے اُوئیل ځکه چه دا حکم هرمسجد ته شامل دے﴿اُولٰٓئِكَ مَا كَانَ لَهُمْ﴾ مراد دا دے چه مؤمنانوله پکاردی چه صبراوجهاد اوکړی نودَ دوی رعب به په کافرانو باندے قائم شی نوهغوی به دغه مساجدوته په امن سره نشی دا خلیدلے اودَ دے مصداق په وخت دَغلبے دَاسلام کښ موجود شویدے۔

[۱۱۵] یعنی که څوك یومؤحد لره دَ مسجد نه منع کړی نو دهٔ لره پکار دی چه بل ځائے کښ دین بیان کړی اومشرق اومغرب نه مراد ټول طرفونه دی ﴿وَجْهُ اللّٰهِ﴾ دا اودَ دے پشان ایاتونه دَ متشابهاتونه دی۔ په دے کښ حق مذهب دَ اهل سنت سلف صالحینو دے۔ هغه دَ دے په ظاهر باندے ایمان راوړل اوعلم دَ حقیقت اللّٰه تعالیٰ ته سپارل دی اوپه داسے ایتونوکښ تاویل کول په داسے طریقه باندے چه دَ ظاهرنه انکار کوی دا بدعت دے۔ اودَ شیخ الاسلام یوقول دا دے چه وجة دَ متشابهاتونه نه ده بلکه دا مشترك لفظ دے په ډیرومعانوکښ نوپه یومعنیٰ باندے حمل کول تاویل مذموم نه دے او په دے کښ اقوال دَ سلفودا دی قول دَ مجاهد په معنیٰ دَ قبلة اللّٰه۔ اوپه معنیٰ دَ توجه هم کیدیشی اوپه معنیٰ دَ علم په دلیل دَ واسع علیم سره۔ او دا آیت دَډیرو مفسرینو په نیز دَ هغه مونځ په باره کښ دے چه نفل وی په سورلے باندے

وَلَدًا ۙ سُبْحٰنَهٗ ؕ بَلْ لَّهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ كُلٌّ لَّهٗ قٰنِتُوْنَ ﴿۱۱۶﴾ بَدِیْعُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَاِذَا
قَضٰۤی اَمْرًا فَاِنَّمَا یَقُوْلُ لَهٗ كُنْ فَیَكُوْنُ ﴿۱۱۷﴾ وَقَالَ الَّذِیْنَ لَا یَعْلَمُوْنَ لَوْلَا یُكَلِّمُنَا اللّٰهُ اَوْ تَاْتِیْنَاۤ
اٰیَةٌ ؕ كَذٰلِكَ قَالَ الَّذِیْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ مِّثْلَ قَوْلِهِمْ ؕ تَشَابَهَتْ قُلُوْبُهُمْ ؕ قَدْ بَیَّنَّا الْاٰیٰتِ لِقَوْمٍ یُّوْقِنُوْنَ ﴿۱۱۸﴾
اِنَّاۤ اَرْسَلْنٰكَ بِالْحَقِّ بَشِیْرًا وَّنَذِیْرًا ۙ وَّلَا تُسْـَٔلُ عَنْ اَصْحٰبِ الْجَحِیْمِ ﴿۱۱۹﴾ وَلَنْ تَرْضٰی عَنْكَ الْیَهُوْدُ وَلَا

ولد(نازولے) پاك دے اللّٰه تعالیٰ بلكه اللّٰه تعالیٰ لره اختیار دے دَ هغه څه چه په اسمانونو كښ دی اوپه زمكه كښ دی، دا ټول اللّٰه تعالیٰ لره تابعداری كوونكی دی (١١٦) نوے پیداكوونكے دَ اسمانونو اودَ زمكے دے اوكله چه اراده اوكړی دَ یو كارپس یقیناً اُوائی هغه ته اوشه پس اوشی (١١٧) او وائی هغه كسان چه نه پوهیږی ولے خبرے نه كوی مونږ سره اللّٰه تعالیٰ یاولے نه راځی مونږ ته نښه په (رسالت) دغسے ویل هغه كسانو چه مخكے دَ دوینه ژو پشان دَ وینا دَ دوی، یوشان دی زړونه دَ دوی یقیناً ښكاره كړی دی مونږ (پیرے) نښے دپاره دَ هغه قوم چه یقین كوی (١١٨) یقیناً لیږلے ئے مونږ ته دپاره دَ حق بیان زیرے وركوونكے او ویره وركوونكے، او تپوس نشی كیدے ستانه په باره دَ دوزخیانو كښ (١١٩) او هیڅرے به راضی نشی ستانه یهودیان اونه

بهردَ كلی نه یا په سفر كښ۔

[١١٦] په دے كښ جواب دَ شپږم اعتراض دے۔ سوال دا دے چه تهٔ ملائك اوعزیرعلیه السلام نه منے نوتهٔ څنگ پیغمبرئے؟ جواب دا دے چه مونږ هغه منولیكن الله او ولد دَ اللّٰه تعالیٰ ورته نه وایو یهود وائی چه عزیرعلیه السلام دَ اللّٰه تعالیٰ ولد دے او نصاریٰ وائی چه عیسیٰعلیه السلام دَ اللّٰه تعالیٰ ولد دے، اومشركین عرب وئیل، چه ملائك دَ اللّٰه تعالیٰ لونړه دی نو په هغوی كښ دَبعضِ كسانوعقیده دا وه چه دا دَ اللّٰه تعالیٰ حقیقی اولاد دی اودَ بعضو عقیده داوه چه دَ ولد پشان دی یعنی اختیاراو واك ئے وركړے دے اودَ هغه خبره ضرور منی لكه څنگ چه پلار دَ نازولی څوی خبره مجبوراً منی لفظ دَ اتخذ دلالت كوی په متبنّیٰ جوړولوباندے نو پدے آیت كښ رد دے په اتخاذ الولد باندے په دریوطریقو سره اول سبحنه دویم بل له ما فی السمٰوٰتِ دریم كل له قانتون۔ قنوت په معنیٰ دَ عاجزئے اوذلت كولو دے۔

[١١٧] په دے آیت كښ رد دے په اتخاذ الولد باندے په دوؤ طریقو سره یو بدیع السمٰوٰتِ، او دویم واذا قضیٰ امراً، بدیع دَ بدعت نه دے او بدعت په لغت كښ هرنوی څیزته وئیلے شی اوپه شریعت كښ پیداكول دَعقیدے یا قول یاعمل دی چه په شرع كښ دَ هغے دلیل نه وی ﴿قَضٰی﴾ دلته په معنیٰ دَ اراده كولودے او امراً نه مراد ایجاد دَ یوڅیز دے۔

[١١٨] په دے كښ جواب دَ اووم سوال دے هغه سوال دا دے كه تهٔ رسول ئے نو اللّٰه دِ مونږ ته پخپله اوائی یادِ مونږ ته وحی اوكړی ستا پشان یا دِ هغه معجزه راشی كوم چه مونږه غواړو۔ جواب اوشو اول الزامی جواب چه دا سوال دَ مخكښ منكرینو پشان دے دویم جواب تحقیقی چه آیات مونږ ښكاره كړی دی یو آیت نه بلكه ډیر آیات(معجزات) لیكن فائده وركوی یقین كوؤنكو ته نه عنادیانوته۔

[١١٩] دا دعویٰ دَ صدق رسول ده اوامر اول دے دَ پنځو امورونه ﴿بِالْحَقِّ﴾ په معنیٰ دَ رشتیا سره یا

النَّصٰرٰى حَتّٰى تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ ؕ قُلْ اِنَّ هُدَى اللّٰهِ هُوَ الْهُدٰى ؕ وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ اَهْوَآءَهُمْ بَعْدَ الَّذِيْ
جَآءَكَ مِنَ الْعِلْمِ ۙ مَا لَكَ مِنَ اللّٰهِ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ ﴿١٢٠﴾ اَلَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ يَتْلُوْنَهٗ حَقَّ
تِلَاوَتِهٖ ؕ اُولٰٓئِكَ يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ ؕ وَمَنْ يَّكْفُرْ بِهٖ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿١٢١﴾ يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اذْكُرُوْا
نِعْمَتِيَ الَّتِيْٓ اَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ وَاَنِّيْ فَضَّلْتُكُمْ عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٢٢﴾ وَاتَّقُوْا يَوْمًا لَّا تَجْزِيْ نَفْسٌ عَنْ نَّفْسٍ
شَيْـًٔا وَّلَا يُقْبَلُ مِنْهَا عَدْلٌ وَّلَا تَنْفَعُهَا شَفَاعَةٌ وَّلَا هُمْ يُنْصَرُوْنَ ﴿١٢٣﴾ وَاِذِ ابْتَلٰٓى اِبْرٰهٖمَ رَبُّهٗ بِكَلِمٰتٍ

نصاریٰ ترهغے پورے چه ته تابع شے دَ دوی دَ طریقے، ته اوایه یقیناً دین دَ اللّٰه تعالیٰ خاص هغه پوره (حق) دین دے، او که چرے ته تابعداری او کړے دَ خواهشاتو دَ دوی روستودَ هغے نه چه راغلے دے تاته علم دَ قران نونیشته تالره دَ اللّٰه تعالیٰ (دَ عذاب نه) څوك دوست بچ کؤونکے اونه مددګار (۱۲۰) هغه کسان چه ورکړے دے مونږ هغوی ته کتاب لولی هغه په لائق لوستلو سره۔دغه کسان ایمان لری په دے باندے، او چاچه کفراو کړوپه دے پس دغه کسان خاص دوی تاوان والادی (۱۲۱) اے اولاد دَ یعقوب(علیه السلام) یادکړئے (په دے رسول منلوسره) نعمت ځما هغه نعمت چه ما انعام کړے دے په تاسوباندے اویقیناً ماغوره والے درکړے دے تاسوته په خلقوباندے (۱۲۲) او اویریږئ (دَ عذاب) دَ هغه ورځ نه چه بدله به نشی ورکولے یونفس دَ بل نفس نه هیڅ اونه به قبلیدلے شی دَ هغه نه فدیه (جرمانه) اونفع به نه ورکوی هغه ته سفارش اونه به دَ دوی سره مدد کیدے شی (۱۲۳) اوهرکله چه ازمیښت اوکړو په ابراهیم(علیه السلام) رب دَ هغه په یوځو کارونو سره

په معنیٰ دَ بیان دَ حق سره ﴿وَلَا تُسْئَلُ﴾ یعنی ستا دَ بیان او دعوت نه روستو چه څوك انکارکوی نو دَ هغوی ذمه واری په تا باندے نیشته۔

[۱۲۰] په دے آیت کښ ذکرشوے دے ضد اوعناد دَکتابیانو او دَ هغوی دَدین نه ځان بچ کول او دا امر دویم دے چه دَ هغوی سره ستا اتحاد ممکن نه دے ﴿اِنَّ هُدَى اللّٰهِ هُوَ الْهُدٰى﴾ اول هدیٰ نه مراد دین دَ اللّٰه تعالیٰ دے چه اسلام دی او دویم په معنیٰ دَ کامل دین او حق دے ﴿اَهْوَآئَهُمْ﴾ مراد دَ دے نه یهودیت اونصرانیت دے چه خلاف دی دَ دین اسلام نه ﴿مَالَكَ﴾ خطاب نبی ﷺ ته دے او مراد دَ دے نه اُمت دے۔

[۱۲۱] په دے کښ دریم امر دے چه هغه دلیل نقلی دے دَ محکښ کتاب دَ منونکونه ﴿حَقَّ تِلَاوَتِهٖ﴾ لائق لوستل دا دی چه په هغے باندے ځان پوهه کوی او عمل کوی او تحریف لفظی او معنوی نه کوی دویمه معنیٰ دا ده تابعداری کوی دَ کتاب په لائق تابعداریٔ سره ﴿يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ﴾ دا ضمیرقرآن (العلم) ته یا رسول آخری ته راجع دے ﴿وَمَنْ يَّكْفُرْ بِهٖ﴾ په دے ضمیر کښ هم دغه احتمالات دی۔

[۱۲۲] پدے آیت کښ ترغیب دے دپاره دَتصدیق دَ اخری رسول ﷺ اوپه دے کښ توجه ورکول دی دَ دوی دین ابراهیمی طرف ته۔

[۱۲۳] په دے کښ تخویف دَ آخرت دے دپاره دَ انکار کوونکو دَ رسول نه ﷺ داسے په (٤٨) آیت کښ هم تیرشویدی په هغه آیت کښ ضمیرونه دَ منها اول نفس (غیرمجرم) ته راجع دی او په دے آیت

فَاَتَمَّهُنَّ ؕ قَالَ اِنِّیْ جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ اِمَامًا ؕ قَالَ وَمِنْ ذُرِّیَّتِیْ ؕ قَالَ لَا یَنَالُ عَهْدِی الظّٰلِمِیْنَ ﴿۱۲۴﴾ وَاِذْ
جَعَلْنَا الْبَیْتَ مَثَابَةً لِّلنَّاسِ وَاَمْنًا ؕ وَاتَّخِذُوْا مِنْ مَّقَامِ اِبْرٰهٖمَ مُصَلًّی ؕ وَعَهِدْنَاۤ اِلٰۤی اِبْرٰهٖمَ وَاِسْمٰعِیْلَ
اَنْ طَهِّرَا بَیْتِیَ لِلطَّآئِفِیْنَ وَالْعٰكِفِیْنَ وَالرُّكَّعِ السُّجُوْدِ ﴿۱۲۵﴾ وَاِذْ قَالَ اِبْرٰهٖمُ رَبِّ اجْعَلْ هٰذَا بَلَدًا
اٰمِنًا وَّارْزُقْ اَهْلَهٗ مِنَ الثَّمَرٰتِ مَنْ اٰمَنَ مِنْهُمْ بِاللّٰهِ وَالْیَوْمِ الْاٰخِرِ ؕ قَالَ وَمَنْ كَفَرَ فَاُمَتِّعُهٗ قَلِیْلًا

پس پوره ئے ادا کړل، او اوفرمائیل اللّٰه تعالیٰ یقیناً زه ګرځوم تا دَ خلقو دپاره پیشوا۔ اُویل ابرهیم(علیه السلام) اودَ اولاد ځمانه (اوګرځوے پیشوا ګان) اوفرمایل اللّٰه تعالیٰ چه نه رسی لوظ ځما (دَ امامت) ظالمانو ته (۱۲٤) او کوم وخت چه اوګرځوو مونږ بیت اللّٰه ځائے دَ ثواب دپاره دَ خلقو اوځائے دَ امن (اُویل مونږ) اونیسئے دَ مقام ابراهیم(علیه السلام)(سره) ځائے دَ مانځه، اوحکم اوکړو مونږ ابراهیم(علیه السلام) ته او اسماعیل(علیه السلام) ته چه پاك سائے کورځما دپاره دَ طواف کوونکو اواعتکاف کوونکو اورکوع کوونکو اوسجده کوونکو(۱۲۵) او کوم وخت چه اُویل ابراهیم(علیه السلام) اے ربه ځما اوګرځوه داځائے بنار امن والا اوروزی ورکړے اوسیدونکودَ دے ته دَ میوونه هغه چا ته چه ایمان لری دَ دوینه په اللّٰه تعالیٰ اوپه ورځ روستنئے، اوفرمایل اللّٰه تعالیٰ اوچاچه کفر اوکړو، پس فائده به ورکړم هغه ته لږه زمانه (ژوند دَ دُنیا) کښ دویم نفس(مجرم) ته راجع دی۔

[۱۲٤] دَ دے آیت نه دَ دے حصے دویم باب دے تر (۱٤۱) پورے په دے کښ واقعه ده دَ ابراهیم په طریقه دَ دلیل نقلی سره دَپاره دَ دعوت دَ بنی اسرائیلو دین دَ ابراهیم(علیه السلام) ته دَ درے مقصدونو دپاره(۱) ابراهیم(علیه السلام) بیت اللّٰه پاك کړے دے دَ شرك نه نو تاسو شرك ولے کوئے او دَ هغه بیت حج ولے نه منئے (۲) ابراهیم(علیه السلام) دَ اخری نبی دپاره دُعا غوختلے ده نو هغه حق دے تاسو ترینه ولے انکارکوئے (۳) ابراهیم(علیه السلام) توحید سره وصیت کړے دے نوتاسوئے ولے نه منئے۔ اونورے پنځه خبرے دی په واقعه دَ ابراهیم(علیه السلام) کښ اوبیا اووه کرته زورنے دی۔ پدے آیت کښ اوله خبره ده چه هغه بیان دَ لوی والی دَ شان دَ ابراهیم(علیه السلام) دے یوپوره کول دَ کلماتو، بل امامت، بل نبوت په اولاد کښ۔

فائده: دَ کلمات نه مراد هغه امتحانونه دی چه قرآن کریم کښ ځائے په باره دَ ابراهیم(علیه السلام) کښ دی۔ دَ نمرود سره محاجه کول، قوم سره محاجه کول، پلارته دعوت کول، اورته غورځول، په ذبح دَ ځوی سره امتحان راتلل۔

فائده: امامت نه مراد نبوت دے او دا دلیل دے پدے باندے چه پیغمبران دَنبوت نه پرواندے دَ ګناهونونه پاك وی ﴿الظّٰلِمِیْنَ﴾ مراد دَ دے نه ګنهګاران دی او عهد نه مراد نبوت دے۔

[۱۲۵] پدے آیت کښ دویمه خبره ده لوئے شان دَ بیت اللّٰه په درے طریقو سره ﴿مَثَابَةً اوَاَمْناً﴾ او ﴿مُصَلًّی﴾ جوړول (مَثَابَةً) ځائے دَثواب ګټلویا ځائے دَ تلوراتللو(مرجع) دَ خلقودپاره (اوامن) نه مراد حرمت دَحرم مکه دے چه وینے تویه ول او اوبوتی پریکول وغیره په هغے کښ منع دی یا عبادت په هغے کښ سبب دَ امن دے دَ عذاب دَ اللّٰه تعالیٰ نه ﴿مَقَامِ اِبْرَاهِیْمَ﴾ مراد دَ دے هغه ګټه ده چه ابراهیم(علیه السلام) په وخت دَ بنا دَ بیت اللّٰه کښ په هغے باندے اودریدلواومصلی نه مراد دوه رکعتونه کول روستودَ طواف نه دَ هغے سره یا مراد دَ دے صفا اومروه، منیٰ، مزدلفه، عرفه، اوملتزم اوحجراسود دی اومصلی نه مرادځایونه دَ

ثُمَّ اَضْطَرُّهٗۤ اِلٰى عَذَابِ النَّارِ ؕ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴿١٢٦﴾ وَاِذْ يَرْفَعُ اِبْرٰهٖمُ الْقَوَاعِدَ مِنَ الْبَيْتِ وَاِسْمٰعِيْلُ ؕ
رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا ؕ اِنَّكَ اَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿١٢٧﴾ رَبَّنَا وَاجْعَلْنَا مُسْلِمَيْنِ لَكَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِنَاۤ اُمَّةً مُّسْلِمَةً
لَّكَ ۠ وَاَرِنَا مَنَاسِكَنَا وَتُبْ عَلَيْنَا ۚ اِنَّكَ اَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ ﴿١٢٨﴾ رَبَّنَا وَابْعَثْ فِيْهِمْ رَسُوْلًا مِّنْهُمْ
يَتْلُوْا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِكَ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَيُزَكِّيْهِمْ ؕ اِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿١٢٩﴾ ع وَمَنْ

بیا به په زور بوځم دهٔ لره عذاب دَ اورته اوبد دے ځائے دَ ورتللو (دااور)(۱۲۶) او کوم وخت چه پورته کول ابراهیم(علیه السلام) بنیادونه دَ بیت الله اواسماعیل(علیه السلام)(دواړو ویل) اے ربه ځمونږ: قبول کړے ځمونږنه یقیناً ته خاص ته هرڅه آورے اوپه هرڅه باندے پوهیږے (۱۲۷) اے ربه ځمونږ اوګرځوے مونږ همیشه اخلاص کؤونکی تاته اودَ اولاد ځمونږنه ډله اخلاص کوونکے تاته، اواوخایه مونږته طریقے دَ بندګئی ځمونږ اومهربانی کوه په مونږ باندے یقیناً ته اوخاص ته ډیر توبه قبلوونکے ئے اورحم کوونکے ئے (۱۲۸)اے ربه ځمونږ اواولیږے په دوی کښ رسول دَ جنس دَ دوینه چه بیانوی په دوی باندے آیاتونه ستا اوخودنه به کوی دویته دَکتاب (قرآن) او دَ سنت اوپاکوی دوی لره، یقیناً ته خاص ته زور آورحکمتونو والائے (۱۲۹) اومخ

دعاکولودی ﴿اَنْ طَهِّرَا﴾ مراد دَ دے ظاهری پاك والے دے دَ نجاساتونه او معنوی پاك والے دَ شرك او بدعاتونه۔ اودا درے عبادتونه دَبیت الله سره خصوصیت لری اول طواف چه بل ځائے جائزنه دے نه دَ یومسجد، نه دَ بل کور، نه دَ قبر۔ دویم اعتکاف چه په هرمسجد کښ کیدیشی لیکن مسجد الحرام کښ ډیر افضل دے دریم رکوع سجده یعنی مونځ کول چه په طور دَ قبلے سره په هغے پورے خاص دے۔

[۱۲۶] پدے آیت کښ دریمه خبره ده دُعا دَ ابراهیم دپاره دَ مکے په دے ځیزونو سره او دپاره دَ اهل مکه۔ ﴿فَاُمَتِّعُهٗ قَلِيْلًا﴾ ټوله دنیا لره ده په نسبت دَ اخرت او دا سے آیت په سورة ابراهیم (۳۵)کښ هم شته خودا دعا په هغه وخت کښ وه چه مکه بالکل نه وه آباده شوے نو بلدائے نکره اُوئیل اودُعا دَ سورة ابراهیم روستودَ آبادئے دَ مکے نه وه نوهلته ئے البلد معرفه وئیلے ده۔

[۱۲۷] پدے آیت کښ او روستو دوؤ کښ ځلورمه خبره ده یعنی درے دُعاګانے دَ ابراهیم علیه السلام اوله دُعا دَ قبولیت دَ عمل، دویمه دُعادوام په اسلام باندے دریمه دُعا دَ آخری نبی په باره کښ ﴿اَلْقَوَاعِدَ﴾ دا دلیل دے چه کعبه مخکے جوړه شویوه لیکن نړے دلے ده صرف بنیادونه ئے پاتے شویوؤهغے باندے ابراهیم علیه السلام آبادی پورته کړله،اواسماعیل علیه السلام ورسره امداد کوؤ ﴿رَبَّنَا تَقَبَّلْ﴾ یعنی په وخت دَ دغه آبادئے کولو کښ داسے دُعا دواړوغوختله۔

[۱۲۸] په دے آیت کښ دویمه دُعا ده۔ دَ تثبت په توحید باندے اواجراءدَتوحید په اولادکښ۔ ﴿مَنَاسِكَنَا﴾ طریقے دَ حج ته وائی اوطریقودَ عاموعباداتونه هم وائی ﴿وَمِنْ ذُرِّيَّتِنَاۤ﴾ مراد دے نه اولاد دَ ابراهیم اواسماعیل دی نوهغه عرب دی بنی اسرائیل نه دی۔

[۱۲۹] پدے آیت کښ دریمه دُعااو دویم مقصد دَ قصے دَ ابراهیم علیه السلام دے اودَ اخری نبی درے صفات

يَّرْغَبُ عَنْ مِّلَّةِ اِبْرٰهٖمَ اِلَّا مَنْ سَفِهَ نَفْسَهٗ ؕ وَلَقَدِ اصْطَفَيْنٰهُ فِي الدُّنْيَا ۚ وَاِنَّهٗ فِي الْاٰخِرَةِ لَمِنَ
الصّٰلِحِيْنَ ﴿١٣٠﴾ اِذْ قَالَ لَهٗ رَبُّهٗۤ اَسْلِمْ ۙ قَالَ اَسْلَمْتُ لِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٣١﴾ وَوَصّٰى بِهَاۤ اِبْرٰهٖمُ بَنِيْهِ وَيَعْقُوْبُ ؕ
يٰبَنِيَّ اِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰى لَكُمُ الدِّيْنَ فَلَا تَمُوْتُنَّ اِلَّا وَاَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴿١٣٢﴾ ؕ اَمْ كُنْتُمْ شُهَدَآءَ اِذْ حَضَرَ
يَعْقُوْبَ الْمَوْتُ ۙ اِذْ قَالَ لِبَنِيْهِ مَا تَعْبُدُوْنَ مِنْۢ بَعْدِيْ ؕ قَالُوْا نَعْبُدُ اِلٰهَكَ وَاِلٰهَ اٰبَآئِكَ اِبْرٰهٖمَ

نه اړه وی د دین ابراهیم(علیه السلام) نه مګر هغه څوك چه بے وقوف کړی ځان خپل، اویقیناً غوره کړے ؤو مونږدهٔ لره په دنیا کښ اویقیناً دے به په آخرت کښ خامخا دَکامیابونه وی (۱۳۰) کوم وخت چه اُویل دهٔ ته رب دَ دهٔ اخلاص کوه (همیشه) اوویل دهٔ اخلاص مِ کړے دے دپاره دَ پالونکی دَ ټولوخلقو (۱۳۱) او وصیت کړے دے په کلمه دَ توحید ابراهیم(علیه السلام) ځامنوخپلوته اویعقوب(علیه السلام) هم چه اے ځامنوځما یقیناً اللّٰه تعالیٰ غوره کړے دے ستاسودپاره دین (توحید) نومرګ دِ رانشی تا سوته مګرپه داسے حال چه توحید والائیے (۱۳۲) آیاوئے تاسو حاضرکوم وخت چه نزدے شویعقوب(علیه السلام) ته مرګ کوم وخت چه اوویل هغه ځامنوخپلوته چه دَ چابندګی به کوئے؟ روستو ځمانه، اوویل هغوی بندګی به کوؤدَ معبود ستا دَ اومعبود دَ پلار نیکه ستا چه ابراهیم(علیه السلام)

او درے کارونه ذکردی عربی رسول اوبشر۔ قرآن بیانول، تعلیم دَ قرآن اوسنت، تزکیه په صفا عقائدو اواخلاقوسره۔

فائده: ﴿عَزِيْزٌ﴾ کښ ټول صفات دَکارسازئے اوتصرف داخل دی ﴿حَكِيْمٌ﴾ کښ ټول صفتونه دَ علم داخل دی نودا دواړه ځلاصه دَصفاتودَ اللّٰه تعالیٰ ده ﴿فِيْهِمْ﴾ ضمیر راجع دے ذریتنا ته نودلیل دے چه نبی ﷺ مکی عربی وؤ ﴿مِنْهُمْ﴾ ضمیرذریت یا امت مسلمه ته راجع دے اومراد دَ دے نه دَ هغوی دَ جنس نه دے یعنی بشردے ﴿يَتْلُوْا عَلَيْهِمْ﴾ داپه طریقه دَ دعوت اوتبلیغ سره دے ﴿وَيُعَلِّمُهُمُ﴾ په طریقه دَتعلیم سره دے اونصاب تعلیم قرآن اوسنت دے ﴿وَيُزَكِّيْهِمْ﴾ دا اثردَ تبلیغ اوتعلیم دے یعنی طریقے دَ اعمالواواخلاق خودل۔

[۱۳۰،۱۳۱] په دے آیاتونوکښ پنځمه خبره دَتاکید ده دَ ملت دَابراهیم علیه السلام او زورنه ده مخ اړوونکی ته دَ هغه نه اودَ شرعی سفاهت تعریف دے ﴿وَلَقَدِ اصْطَفَيْنَاهُ﴾ دا علت دَماقبل دے اواصطفا ئے مخکے ذکرکړے ده په امامت سره ﴿الصّٰلِحِيْنَ﴾ دَ عمل صالح کولوځائے خو دنیا ده نودلته مراد دَصالحین فائزین (کامیاب) دی ﴿اَسْلَمَ﴾ مراد دَ دے نه همیش والے او پخیدل دی په پوره اسلام باندے ﴿لِرَبِّ الْعَالَمِيْنَ﴾ په دے وصف کښ اشاره ده دلیل دَ اسلمت ته۔

[۱۳۲] پدے آیت کښ دریم مقصد دَ واقعے دَ ابراهیم علیه السلام ذکردے چه ابراهیم علیه السلام اویعقوب علیه السلام په توحید سره وصیت کړے وو نو زړه مسئله ده۔ نوضمیرپه بهاکښ راجع دے کلمه دَاسلمت لرب العالمین ته۔ ﴿فَلَا تَمُوْتُنَّ﴾ هرکله چه انسان ته وخت دَ مرګ معلوم ندے نومراد دَ دے نه په اسلام باندے هروخت اوپه هرحالت کښ که خوشحالی وی یا تکلیف وی باقی پاتے کیدل ضروری دی تردے پورے چه مرګ راشی په دهٔ باندے په وخت دَ اسلام کښ۔

وَاِسْمٰعِيْلَ وَاِسْحٰقَ اِلٰهًا وَّاحِدًا ۚ وَّنَحْنُ لَهٗ مُسْلِمُوْنَ ﴿١٣٣﴾ تِلْكَ اُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ ۚ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَ
لَكُمْ مَّا كَسَبْتُمْ ۚ وَلَا تُسْـَٔلُوْنَ عَمَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿١٣٤﴾ وَقَالُوْا كُوْنُوْا هُوْدًا اَوْ نَصٰرٰى تَهْتَدُوْا ؕ قُلْ بَلْ مِلَّةَ
اِبْرٰهٖمَ حَنِيْفًا ؕ وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿١٣٥﴾ قُوْلُوْٓا اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَمَآ اُنْزِلَ اِلَيْنَا وَمَآ اُنْزِلَ اِلٰٓى اِبْرٰهٖمَ
وَاِسْمٰعِيْلَ وَاِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ وَالْاَسْبَاطِ وَمَآ اُوْتِىَ مُوْسٰى وَعِيْسٰى وَمَآ اُوْتِىَ النَّبِيُّوْنَ مِنْ رَّبِّهِمْ ۚ

او اسماعیل(علیه السلام) او اسحاق (علیه السلام) دی معبود یو او مونږ به خاص الله تعالی لره اخلاص کؤونکی یو (۱۳۳) دغه یوه ډله ده یقیناً تیره شوے ده، دوی لره هغه عمل دے چه دوی کړے دے او تاسو لره هغه عمل دے چه تاسو کړے دے اوتپوس به نه شی کیدے ستاسونه دَ هغه عملونوچه دوی کول (۱۳٤) او وائی دوی چه شئے تاسویهودیان یانصاریٰ لاربه اُومومئے اوایه بلکه (مونږتابع یو) دَ دین دَ ابراهیم(علیه السلام) چه پوخ مؤحد ؤو اونه وودے دَ مشرکانو دَ ډلے نه (۱۳۵) اُوائیے ایمان راوړے دے مونږپه الله تعالی اوپه هغه څه چه نازل کړے شویدی مونږته اوپه هغه څه چه نازل کړے شوی دی ابرهیم(علیه السلام) او اسماعیل (علیه السلام) اواسحاق(علیه السلام) ته اویعقوب(علیه السلام)ته او اولاد دَ دهٔ ته او هغه چه ورکړی شوی دے موسیٰ(علیه السلام) اوعیسیٰ(علیه السلام) ته اوهغه چه ورکړے شوی دی نورو پیغمبرانوته دَ طرف دَ رب دَ دوینه،

[۱۳۳] دے آیت کښ اوله زورنه ده او دَدوی دَ سوال جواب دے دوی وئیل یعقوب(علیه السلام) وصیت کړے وو په یهودیت سره۔ جواب اوشوچه تاسوهغه وخت حاضرنه وئے نوولے دروغ وائے ﴿اَلْمَوْتُ﴾ مراد دَ حضرنه نزدیکت دے یا دَ الموت نه مراد علامات خاصه دَ مرګ دی ځکه چه کله مرګ په انسان باندے راشی نوبیا خوخبرے نشی کولے ﴿اِذْقَالَ لِبَنِيْهِ﴾ دا تفصیل دَ وصیت دَ یعقوب(علیه السلام) دے ﴿مِنْ بَعْدِىْ﴾ روستودَ مرګ ځمانه ﴿اٰبَآءِكَ﴾ اسحاق، خوپلاردَیعقوب(علیه السلام) وؤ اواسماعیل(علیه السلام) ئے تره وؤ او ابراهیم(علیه السلام) ئے دَپلارپلار وؤنودا دلالت کوی چه تره اونیکه ته هم اب وئیلے شی۔

[۱۳٤] دے کښ دویمه زورنه ده دوی ویل چه زمونږ پلاران نیکونه پیغمبران وؤ مونږ ته بدویل ګناه دے۔ جواب اوشو چه دَ هغوی په عمل سره تاسونه خلاصیږئ ﴿لَهَا مَا كَسَبَتْ﴾ په دے کښ مراد دا دے چه دَهرچا نیك عمل به خاص هغه ته فائده ورکوی څوك دَ بل چا په نیك عمل نشی خلاصیدلے۔ ﴿وَلَا تُسْـَٔلُوْنَ﴾ په دے کښ اشاره ده چه هرڅوك دَ خپل ناکاره عمل ذمه دار دے څوك دَ بل په بدعمل سره نه نیولے کیږی۔ په دے کښ رد دے دَ دے زمانے په پیرزادګانو اوصاحبزادګانوچه دَخپلو مشرانو په نیك اعمالو باندے فخر کوی او اتباع دَ هغوی نه کوی۔

[۱۳۵] دے آیت کښ دریمه زورنه ده چه دوی دعوت کوی باطل دین ته چه یهودیت او نصرانیت دے او دَدین باطل خپل نه توبه نه اوباسی ﴿بَلْ مِلَّةَ اِبْرَاهِيْمَ﴾ اشاره ده چه یهودیت اونصرانیت دَملت ابراهیمیه ملت حنیفیه نه بالکل اوړیدلے وؤ ﴿حَنِيْفًا﴾ مستقیم په حق دین اوپریخودونکے دَهرباطل دین۔ ﴿وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ﴾ په دے کښ اشاره ده چه یهود اونصاریٰ مشرکان شویوؤ اوهغوی ته سره دَ وصف دَ کتابیت نه مشرك وئیلے شی۔

لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْهُمْ ۖ وَنَحْنُ لَهٗ مُسْلِمُوْنَ ﴿١٣٦﴾ فَاِنْ اٰمَنُوْا بِمِثْلِ مَآ اٰمَنْتُمْ بِهٖ فَقَدِ اهْتَدَوْا ۚ وَاِنْ
تَوَلَّوْا فَاِنَّمَا هُمْ فِيْ شِقَاقٍ ۚ فَسَيَكْفِيْكَهُمُ اللّٰهُ ۚ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿١٣٧﴾ صِبْغَةَ اللّٰهِ ۚ وَمَنْ اَحْسَنُ
مِنَ اللّٰهِ صِبْغَةً ۖ وَّنَحْنُ لَهٗ عٰبِدُوْنَ ﴿١٣٨﴾ قُلْ اَتُحَآجُّوْنَنَا فِي اللّٰهِ وَهُوَ رَبُّنَا وَرَبُّكُمْ ۚ وَلَنَآ اَعْمَالُنَا

جدائی نه کؤو په مینځ دَ هیڅا کښ دَ دوینه (په ایمان راوړلو کښ) اومونږ خاص اللّٰه تعالی ته اخلاص کؤونکي یو (۱۳٦)پس که چرے دوی ایمان راوړوپشان دَ ایمان ستاسوپه هغے پس یقیناً لاره ئے اوموندله، او که دوی مخ واړه ؤوپس یقیناً دوی په سخته دشمنئے کښ دی، پس خامخا بچ به اوساتی تاله دَ دوینه اللّٰه تعالی اوخاص اللّٰه تعالی هرڅه آوری اوپه هرڅه پوهه دے (۱۳۷) اووائے قبول کړے دے مونږ رنګ دَ اللّٰه تعالی اوڅوك ډیرخائسته دے دَ اللّٰه تعالی نه په رنګولو کښ، اومونږخاص هغه لره بندګی کؤونکی یو (۱۳۸) اووایه آیا جګړه کوئ تاسومونږسره په توحید دَ اللّٰه تعالی کښ ا و (حال دا چه) هغه رب ځمونږ او ستاسودے اومونږ لره عملونه ځمونږ دی

[۱۳٦] پدے کښ ځلورمه زورنه ده دوی اعتراض کوو چه تاسوپیغمبران نه منئے مثلاً عیسیٰ علیه السلام۔ جواب اوشوچه دوی ته خپله عقیده ښکاره کړئ چه مونږ پیغمبران منو په هغوی کښ دَ ایمان باره کښ فرق نه کوؤ لیکن دَ هغوی بندګی نه کوؤ لکه تاسوچه دَعیسیٰ علیه السلام کوئے۔ هرکله چه څوك یهودیت اونصرانیت ته دعوت ورکوی نو دَ هغوی اول جواب بل ملة ابراهیم، دے اودویم جواب دا دے۔ آمَنَّا بِاللّٰهِ، ﴿الْاَسْبَاطِ﴾ اولاد دَ ځامنواودَ لونړوته وئیلے شی دلته مراد اولاد دَ یعقوب علیه السلام ؤ چه دولس خاندانونه جوړشویوؤ اوپه هغوی کښ ډیرانبیاء رالیګلے شویوؤ ﴿مُوْسٰى وَعِيْسٰى﴾ دا دواړه تشریعی انبیاء ؤ ځکه دَ دوی تخصیص اوشو ﴿لَا نُفَرِّقُ﴾ دلته مراد دے فرق په ایمان کښ یعنی بعضے رسولان منل اوبعضے نه منل اوهرچه فرق دے په مراتبو کښ نو هغه خو ثابت دے دَ دے سورة په (۲۵۳) کښ۔

[۱۳۷] پدے ایت کښ دوی ته دعوت دَ ایمان دے پشان دَ ایمان دَ صحابه کرامو۔ دا دلیل دے په فضیلت دَ صحابو چه دَ هغوی ایمان معیاردے دَصحیح ایمان دپاره ﴿بِمِثْلِ مَآ اٰمَنْتُمْ﴾ مثل نه مراد عین ایمان دَ هغوی دے هرکله چه صفت دَ ایمان دَ هرچاپه هغه پورے قائم دے نو دَ بل ایمان ته ئے مثل اوویل۔ ﴿فَسَيَكْفِيْكَهُمُ اللّٰهُ﴾ دا تسلی ده نبی علیه السلام ته چه دَ شقاق دَ وجے نه داخلق به ضرور ستاسو دَ مقابلے کولوکوشش کوی لیکن دوی نه ویره مه کوئ۔

[۱۳۸] دے ایت کښ پنځمه زورنه ده نصاراؤ ته چه هغوی خپل دین دَ ظاهری رنګ نه عبارت ګرځولے دے۔ جواب اوشوچه رنګ خائسته رنګ دَ توحید دے چه دَ هغے اثرپه ظاهر او باطن شته په دُنیا اوپه آخرت کښ۔ دا رد دے په رسم باطل دَنصاریٰ باندے چه څوك به په دین نصرانیت کښ داخلیدل نوهغه به ئے په معموری رنګ سره رنګین کړو وئیل به ئے چه اوس خالص نصرانی شو ﴿وَمَنْ اَحْسَنُ مِنَ اللّٰهِ صِبْغَةً﴾ یعنی دَنورو رنګونواثرخوصرف په ظاهرباندے وی اودَ اللّٰه تعالی دَ دین اسلام رنګ په ظاهر اوپه باطن او په دنیا او آخرت کښ باقی دے نوهغه ډیرخائسته اومضبوط دے۔

وَلَكُمْ اَعْمَالُكُمْ ۚ وَنَحْنُ لَهٗ مُخْلِصُوْنَ ﴿١٣٩﴾ اَمْ تَقُوْلُوْنَ اِنَّ اِبْرٰهٖمَ وَاِسْمٰعِيْلَ وَاِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ
وَالْاَسْبَاطَ كَانُوْا هُوْدًا اَوْ نَصٰرٰى ؕ قُلْ ءَاَنْتُمْ اَعْلَمُ اَمِ اللّٰهُ ؕ وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ كَتَمَ شَهَادَةً
عِنْدَهٗ مِنَ اللّٰهِ ؕ وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿١٤٠﴾ تِلْكَ اُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ ۚ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَلَكُمْ
مَّا كَسَبْتُمْ ۚ وَلَا تُسْـَٔلُوْنَ عَمَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿١٤١﴾

اوتاسو لره عملونه ستاسودی، او مونږ خاص هغه ته اخلاص کؤونکی یو (۱۳۹) آیا وائے تاسوچه یقیناً ابراهیم(علیه السلام) اواسماعیل(علیه السلام) اواسحاق(علیه السلام) اویعقوب(علیه السلام) اواولاد دَ هغه دوی ژویهودیان یانصاریٰ؟ اووایه آیا تاسو ښهٔ پوهه ئے یا اللّٰه تعالیٰ؟ او څوك لوئے ظالم دے دَ هغه چانه چه پټوی علم چه وی دَ دهٔ سره دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه، اونه دے اللّٰه تعالیٰ بے خبره دَ هغه عملونونه چه تاسوئیے کوئے (۱٤۰)دغه یوه ډله ده یقیناً مخکے تیره شوے ده دوی لره هغه عملونه دی چه دوی کړی دی اوتاسو لره هغه عملونه دی چه تاسوکړی ذی او تپوس نشی کیدے ستاسونه دَ هغه عملونوچه دوی ئیے کوی (۱٤۱)

[۱۳۹] دے آیت کښ شپږمه زورنه ده۔ چه جګړے کول دی په باره دَ توحید دَ الوهیت کښ اودَصفاتودَ اللّٰه تعالیٰ کښ اوخاص کر په صفت دَ اختیاردَ هغه کښ چه چاله نبوت اوکتاب ورکوی او چاله نورفضائل ورکوی ﴿رَبُّنَا وَرَبُّكُمْ﴾ یعنی اتحاد په عقیده دَ ربوبیت کښ مستلزم دے اتحاد لره په عقیده دَالوهیت کښ اوپه صفت اواختیاراوتصرف کښ ﴿وَلَنَآ اَعْمَالُنَا﴾ زمونږ اعمال په موافق دَ توحید دَ الوهیت دی او ستاسوعملونه په مقتضیٰ دَ شرك دی نو اتحاد په عقیده دَ ربوبیت کښ فائده نه کوی په وخت دَ مخالفت په توحید دَ الوهیت کښ۔

[۱٤۰] دے آیت کښ اوومه زورنه ده، چه دوی دَ غلط دین نسبت پیغمبران علیهم الصلوٰة والتسلیمات ته کوؤ ﴿اَمِ اللّٰهُ﴾ یعنی دَ اللّٰه تعالیٰ شهادت دا دے چه انبیاء علیهم السلام ټول په ملت ابراهیمیه (توحید خالص) باندے وؤلکه په سورة آلعمران(۹۵) کښ دیٰ ﴿شَهَادَةً عِنْدَهٗ﴾ مراد دَ دے نه شهادت دے دَپاره دَ ابراهیم(علیه السلام) په حنیفیت سره او دارنګ دَپاره دَ آخری رسول په اتباع دَ دین ابراهیم سره دا یهودیانو او نصاراؤ پټ ساتلونو دوی ډیرظالمان دی۔

[۱٤۱] دا رد دے چه دوی پخپلومشرانو سره فخرکوؤ۔ مخکے په (۱۳٤) کښ مشران انبیاء مراد وؤ اودلته نور مشران مراد دی دارنګ هلته مراد وؤ ردکول په دوی باندے په دعویٰ دَ نجات موندلوپه اعمالودَ مشرانو سره او دلته رد دے په نفس فخردَ دوی په نسب دَ مشرانو سره۔

سَيَقُوْلُ السُّفَهَآءُ مِنَ النَّاسِ مَا وَلّٰىهُمْ عَنْ قِبْلَتِهِمُ الَّتِيْ كَانُوْا عَلَيْهَا ؕ قُلْ لِّلّٰهِ الْمَشْرِقُ وَ
الْمَغْرِبُ ؕ يَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۱۴۲﴾ وَكَذٰلِكَ جَعَلْنٰكُمْ اُمَّةً وَّسَطًا لِّتَكُوْنُوْا شُهَدَآءَ عَلَى
النَّاسِ وَيَكُوْنَ الرَّسُوْلُ عَلَيْكُمْ شَهِيْدًا ؕ وَمَا جَعَلْنَا الْقِبْلَةَ الَّتِيْ كُنْتَ عَلَيْهَآ اِلَّا لِنَعْلَمَ مَنْ يَّتَّبِعُ
الرَّسُوْلَ مِمَّنْ يَّنْقَلِبُ عَلٰى عَقِبَيْهِ ؕ وَاِنْ كَانَتْ لَكَبِيْرَةً اِلَّا عَلَى الَّذِيْنَ هَدَى اللّٰهُ ؕ وَمَا كَانَ اللّٰهُ
لِيُضِيْعَ اِيْمَانَكُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بِالنَّاسِ لَرَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۴۳﴾ قَدْ نَرٰى تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَآءِ ۚ فَلَنُوَلِّيَنَّكَ

زردے چه اوبه وائی بے وقوفان دَ خلقونه چه څه شی اوګرځول دوی لره دَ قبلے دَ دوینه چه دوی ؤو هغے ته (مخ ګرځوونکی) ته ورته اووایه خاص اللّٰه تعالیٰ لره دے مشرق او مغرب، رسوی چاڅه چه اوغواړی لارے نیغے ته (۱۴۲) اودغسے جوړ کړی ئے مونږتاسو امت غوره (عادلان) دَ دے دپاره چه شئے تاسو حق بیانونکی خلقوته او وی به رسول(ﷺ) تاسوته دَ حق بیان کؤونکے اونه ده مقرر کړے مونږ قبله هغه طرف چه ته وے په هغے باندے مګر دے دپاره چه ښکاره کړو مونږ هغه څوك چه تابعداری کوی دَ رسول(ﷺ) دَ هغه چانه چه اوړی په پندو خپلو باندے او اګرچه دا قبله بدلول خامخا ګران دی مګر په هغه کسانو چه اللّٰه تعالیٰ پاڅه کړی دی(په حق باندے) او نه دے اللّٰه تعالیٰ چه بربادکړی مونځونه ستاسو یقیناً اللّٰه تعالیٰ په خلقوباندے خامخا ډیرمهربان دے رحم کؤونکے دے (۱۴۳) یقیناً وینومونږ اړه ول دَ مخ ستا طرف دَ اسمان ته پس خامخا اړؤو مونږ تا

[۱۴۲] دَ دے آیت نه دَ دے حصے دریم باب دے تر(۱۶۲) پورے پدے کښ دَاتم اونهم سوال جواب دے۔ اتم سوال په باره دَ قبله بدلیدلو کښ اودَهغے څلورجوابونه دی دوه اجمالی اودوه تفصیلی۔ اوبیا دَترغیب اومضبوط والی دپاره پنځه اموردی اونهم سوال دَصفا اومروه په باره کښ دے اوبیا زورنه ده او ویره ورکول دی دپاره دَحق پټوونکو۔

فائده: پدے ایت (۱۴۲) کښ دلیل دے چه څوك دَنبی ﷺ اودَصحابو په عمل باندے اعتراض کوی نوهغه بے وقوف دے ﴿لِلّٰهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ﴾ دا اوله وجه اجمالی ده دپاره دَ بدلیدلو دَ قبلے چه ټول طرفونه دَ اللّٰه تعالیٰ په اختیار کښ دی۔ او دَاللّٰه تعالیٰ هرحکم کښ هدایت دے۔ ﴿السُّفَهَآءُ﴾دا عام دے یهود اومنافقینو ته ﴿سَيَقُوْلُ﴾ دا قول دَتحویلِ قبله نه مخکے دے اوسین دپاره دَاستقبال دے په طریقه دَپیشنګوئی رشتینے سره یا دا قول روستو دَ تحویل نه دے اوسین دَپاره دَ تاکید دے اویقول په معنیٰ دَ قال سره دے ﴿قِبْلَتِهِمُ﴾ مراد دَ دے نه بیت المقدس دے چه شپاړس یا اوولس میاشتے هغه قبله وه په وحی غیرمتلوسره اوبیا منسوخ شوه ﴿اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ﴾ اشاره ده چه قبلے ته مخ کول په امرد اللّٰه تعالیٰ مصداق دَ صراط مستقیم دے۔

[۱۴۳] شهادت نه مراد یاخوګواهی ورکول په ورځ دَ قیامت دی دَ نورو انبیاؤدپاره دَ هغوی دَاُمتونوپه مقابله کښ اوځمونږنبی ﷺ به ګواهی دَ صفائی ورکوی۔ دا سے په حدیث شریف کښ دی یا دَ شهادت نه مراد بیان دَ حق دے په دُنیاکښ چه صحابه کراموحق زده کړے دے دَ نبی ﷺ نه اوبیا ئے نورامت ته بیان اوکړو اودا معنیٰ سمرقندی لیکلے ده ﴿وَمَا جَعَلْنَا﴾ دا دویمه وجه تفصیلی ده دپاره دَقبله بدلیدلو۔

قِبْلَةً تَرْضٰهَا ۪ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ؕ وَحَيْثُ مَا كُنْتُمْ فَوَلُّوْا وُجُوْهَكُمْ شَطْرَهٗ ؕ وَاِنَّ
الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ لَيَعْلَمُوْنَ اَنَّهُ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّهِمْ ؕ وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۴۴﴾ وَلَئِنْ
اَتَيْتَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ بِكُلِّ اٰيَةٍ مَّا تَبِعُوْا قِبْلَتَكَ ۚ وَمَآ اَنْتَ بِتَابِعٍ قِبْلَتَهُمْ ۚ وَمَا بَعْضُهُمْ
بِتَابِعٍ قِبْلَةَ بَعْضٍ ؕ وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ اَهْوَآءَهُمْ مِّنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَكَ مِنَ الْعِلْمِ ۙ اِنَّكَ اِذًا لَّمِنَ

داسے قبلے ته چه خوښه وی ستا هغه پس واړوه مخ خپل طرف دَ مسجد حرام ته، او کوم ځائے چه ئے تاسو پس کړځوئ مخونه خپل طرف دَ هغے ته، اویقیناً هغه کسان چه ورکړے شوے دے هغویته کتاب خامخا پوهیږی چه یقیناً دا قبله بدلیدل حق دی دَ طرف دَ رب دَ دوینه اونه دے اللّٰه تعالیٰ بے خبره دَ هغه عملونونه چه دوی کوی (١٤٤) او که چرے راوړے ته هغه کسانو ته چه ورکړے شوے دے ورته کتاب هر قسم دلیل تابعداری نه کوی دوی دَ قبلے ستا اونه ئے ته تابعداری کؤونکے دَ قبلے دَ دوی، اونه دی بعضِ دَ دوی تابعدارد قبلے دَ بعضو، او که چرے تابعداری او کړے ته دَ خواهشاتودَ دوی روستودَ هغے نه چه راغلے دے تاته علم (دَ قرآن) یقیناً ته به په دغه وخت خامخا دَ

فائده: ١ دے آیت نه معلومه شوه چه عادت بدلول دپاره دَ اتباع دَ سنت رسول ﷺ گران کار دے مګرځوك چه دَ دے فائدوباندے اللّٰه تعالیٰ پوهه کړی نوهغوی ته اسانه وی۔

فائده: ٢ کوم عمل چه دَایمان په بنا اوکړے شی نوهغه باندے دَ ایمان اطلاق کیدے شی ﴿اُمَّةً وَّسَطًا﴾ وسط په معنیٰ دَ عادل دے دَ دے اول مصداق صحابه کرام دی اودَشهداء دریمه معنیٰ دا ده چه دوی دَکوم شخص دپاره دَ نیکئے شهادت ورکړی نوهغه به جنتی وی اوچه دَچا دَپاره دَبدئے شهادت ورکړی نوهغه به جهنمی وی په حدیث کښ دی انتم شهداء اللّٰه فی الارض ﴿الْقِبْلَةَ الَّتِيْ كُنْتَ عَلَيْهَآ﴾ مراد دَ قبله نه بیت المقدس دے اوجعل په معنیٰ دَمقدرکولودے یا په معنیٰ دَبدلولودے اوکنت پخپله معنیٰ سره دے یا مراد دَ قبله نه کعبه ده اوجعل په معنیٰ دَمقررکولودے اوکنت په معنیٰ دَدانت دے ﴿يَنْقَلِبُ عَلٰى عَقِبَيْهِ﴾ اشاره ده مرتدکیدلوته بغیردَسوچ اوفکرنه ﴿اِيْمَانَكُمْ﴾ دَ دے نه مراد مونځ دے چه عمل دَ ایمان دے ﴿لِنَعْلَمَ﴾ دا په معنیٰ دَتمییزیا دَاظهاردے نفس علم خودَ اللّٰه تعالیٰ دَمخکے نه صفت دے۔

[١٤٤] رسول اللّٰه ﷺ دَ وحی په انتظار وو اوآسمان طرف ته به ئے کتل په دے اراده چه اللّٰه تعالیٰ کعبه قبله اوکړځوی ځکه چه دا قبله دَ ټولوانبیاؤمخکنوده داسے په حدیث دَ بخاری کښ شته ﴿وَاِنَّ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ﴾ دا دریمه وجه اجمالی ده دَ قبلے دَ بدلیدلوچه دا خبره کتابیانوته معلومه ده اګرچه دوی ئے نه منی۔ ﴿قَدْ نَرٰى﴾ دا په معنیٰ دَ ماضی دے ﴿فِي السَّمَآءِ﴾ مراد دَ دے نه جهة السماء دے ﴿وَجْهِكَ﴾ مراد دَ دے ټول بدن دے ﴿الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ﴾ مراد دَ دے نه کعبه ده ذکرډکل مراد ترینه جزء دے په ذکرډ مسجد حرام کښ اشاره چه واجب جهة دَکعبے دے عین کعبه نه ده ﴿حَيْثُ مَا كُنْتُمْ﴾ تعمیم دے مکانونوته په سفراوحضرکښ۔

الظّٰلِمِيْنَ ﴿١٤٥﴾ اَلَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ يَعْرِفُوْنَهٗ كَمَا يَعْرِفُوْنَ اَبْنَآءَهُمْ ؕ وَاِنَّ فَرِيْقًا مِّنْهُمْ لَيَكْتُمُوْنَ الْحَقَّ
وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿١٤٦﴾ اَلْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ فَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الْمُمْتَرِيْنَ ﴿١٤٧﴾ وَلِكُلٍّ وِّجْهَةٌ هُوَ مُوَلِّيْهَا فَاسْتَبِقُوا
الْخَيْرٰتِ ؕ اَيْنَ مَا تَكُوْنُوْا يَاْتِ بِكُمُ اللّٰهُ جَمِيْعًا ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿١٤٨﴾ وَمِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ فَوَلِّ

ظالمانونه شے (١٤٥) هغه کسان چه ورکړے دے مونږ هغوی ته کتاب پیژنی حقانیت دَ رسول (اودَ قبلے) لکه چه پیژنی ځامن خپل، اویقیناً یوه ډله دَ دوینه خامخا پټوی حق لره اودوی، پوهیږی (١٤٦) چه داحق دے دَ طرف دَ رب ستا نه پس مه کیږه ته دَ شك کؤونکو نه (١٤٧)اودَ هر چا دپاره یو طرف دے، دے ګرځوونکے هغے ته مخ خپل پس مخکښے شئے دَ یوبل نه نیکو عملونوته هرځائے چه ئے تاسو رابه ولی تاسولره اللّٰه تعالیٰ په یوځائے، یقیناً اللّٰه تعالیٰ په هرشے باندے قادردے (١٤٨) او دَ کوم ځائے نه چه وتلے ئے ته پس ګرځوه

[١٤٥] دَ دے آیت اوله جمله کښ ئے عناد دَا هل کتابو ذکرکړے دے او ذکر دَ قبلے دے او مراد ترینه دین دے، دویمه جمله کښ دَ نبی ﷺ براء ت ئے ذکرکړے دے اودریمه اوخلورمه جمله کښ اشاره ده اختلاف دَمینځ دَ دوی ته اشاره ده چه دوی قبلے دَځان دَطرف نه جوړے کړی دی ﴿وَمَا بَعْضُهُمْ بِتَابِعٍ قِبْلَةَ بَعْضٍ﴾ مفسرینولیکلی دی چه قبله دَیهودیانوبیت المقدس ده اوقبله دَنصاریٰ مشرق دَ مقام ولادت دَعیسیٰ علیه السلام دے اودا دواړه دَځان نه جوړ کړے قبلے دی ﴿وَلَئِنْ اَتَيْتَ﴾ نسفی وئیلی دی چه په دے کښ تحذیر دے هغه چاته چه دلیل واضح شی او بیائے پریګدی او دَ خواهش (بے دلیله) خبرے تابعداری کوی۔

[١٤٦] په دے آیت کښ دَ کتاب والودوه قسمه ذکردی اول نیکان چه حق منی دویم حق پټوؤنکی۔ ﴿يَعْرِفُوْنَهٗ﴾ ضمیر راجع دے رسول ته یا تحویل دَ قبلے ته ﴿اَلْحَقُّ﴾ مراد دَ دے نه تحویل قبله یا وصف دَ نبی ﷺ دے چه په تورات کښ ذکروؤ۔

[١٤٧] دا تاکید دَ ماقبل او ترغیب دے تحویل قبله ته الحق،نه مخکے هذا پټ دے او ماقبل کلام ته راجع دے یا الحق مبتدا ده اومن ربك، خبر دے او دَ حق تعریف دے ﴿الْمُمْتَرِيْنَ﴾ دَ مِریة نه دے په معنیٰ دَ شك دے یا دَ مِراء نه دے په معنیٰ دَجګړے کولو۔

[١٤٨] دَ هرچایوه مخه ده هغے ته توجه کوی څوك اللّٰه تعالیٰ ته مخ کوی، څوك قبرته، څوك بت ته، څوك ژوندو پیرانوته، څوك مړوته، څوك ونوته، څوك ګټوته، څوك مسجد سره مینه ساتی، څوك دَ بازار سره، څوك دَ مندر سره، څوك دَګرجے سره وغیره لیکن مونږته حکم دا دے چه هغه عملونوته مخکښ شئے کوم چه دَاللّٰه تعالیٰ اودَ رسول اللّٰه ﷺ دَحکم موافق وی هغے ته خیرات وائی اوپه هغے کښ کعبه داخل ده۔ په دے معنیٰ سره ﴿لِكُلٍّ﴾ نه مراد لکل شخص اوفرقة دے۔ یا وجهة نه مراد قبلة ده اولکل نه مراد هرأمت دے ﴿يَاْتِ بِكُمُ اللّٰهُ جَمِيْعًا﴾ مراد دا دے چه په هرمُلك اوطرف کښ یئ اومونځ کعبے ته کوئے نواللّٰه تعالیٰ به ستاسو مونځ یوګرځوی یا مراد دَ دے نه جمع کیدل دی په قیامت کښ۔

وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۖ وَإِنَّهُ لَلْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ ۗ وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿١٤٩﴾ وَمِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ
فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۖ وَحَيْثُ مَا كُنْتُمْ فَوَلُّوْا وُجُوْهَكُمْ شَطْرَهٗ ۙ لِئَلَّا يَكُوْنَ لِلنَّاسِ
عَلَيْكُمْ حُجَّةٌ ۙ إِلَّا الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مِنْهُمْ فَلَا تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِيْ ۙ وَلِأُتِمَّ نِعْمَتِيْ عَلَيْكُمْ وَلَعَلَّكُمْ
تَهْتَدُوْنَ ﴿١٥٠﴾ كَمَآ أَرْسَلْنَا فِيْكُمْ رَسُوْلًا مِّنْكُمْ يَتْلُوْا عَلَيْكُمْ اٰيٰتِنَا وَيُزَكِّيْكُمْ وَيُعَلِّمُكُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ
وَيُعَلِّمُكُمْ مَّا لَمْ تَكُوْنُوْا تَعْلَمُوْنَ ﴿١٥١﴾ فَاذْكُرُوْنِيْٓ أَذْكُرْكُمْ وَاشْكُرُوْا لِيْ وَلَا تَكْفُرُوْنِ ﴿١٥٢﴾ يٰٓأَيُّهَا الَّذِيْنَ

مخ خپل طرف دَ مسجد حرام ته، اویقیناً دا حق دے دَ طرفه دَ رب ستا نه، اونه دے الله بے خبره دَ هغه عملونونه چه تاسوئے کوئے (١٤٩) اودَکوم ځائے نه چه وتلے ئے ته پس اوګرځوه مخ خپل طرف دَ مسجد حرام ته اوکوم ځائے چه ئے تاسوپس ګرځوئے مخونه خپل طرف دَ هغے ته دپاره دَ دے چه نه وی خلقو لره په تاسو باندے هیڅ دلیل مګرهغه کسان چه ظلم ئے کړے دے دَ دوینه پس مه یریږئے دَ دوینه او اویریږئے ځمانه اودَ دے دپاره چه پوره کړم نعمت خپل په تاسو باندے او دَ دے دپاره چه لار او مومئ (١٥٠) (پوره کول دَ نعمت داسے دی) لکه چه لیږلے دے مونږ په تاسوکښ رسول دَ جنس ستاسو نه بیانوی په تاسوباندے آیاتونه ځمونږ اوپاکوی تاسو، اوتعلیم درکوی تاسو ته دَ قرآن اودَ سنت اوتعلیم درکوی تاسوته دَ هغه څه چه تاسوپه هغے نه پوهیدئے (١٥١) پس یا دوئے مالره ځه به یادوم تاسو او احسان منئے ځما، اوناشکری مه کوئے ځما (١٥٢) اے ایمان والو

[١٤٩] اول کرت ئیے دَفرضیت دَحکم دپاره اوفرمائیل دویم کرت دَعام کولودَټولومکانونودپاره که ښاروی اوکه باندې وی دریم کرت دَ عموم دَ حالاتو دپاره که حضروی اوکه سفروی ﴿وَمِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ﴾ مِن په معنیٰ دَالی دے اواشاره ده دَخپل ځائے نه په وتلوسره که سفروی اوکه کم وی لیکن حکم دَ قبلے نه بدلیږی ﴿لَلْحَقُّ﴾ په دے کښ اشاره ده محکم حکم دے چه نه منسوخ کیږی۔

[١٥٠] پدے آیت کښ ځلورمه وجه ده دَ بدلیدلودَ قبلے ده مطلب دا دے که تاسوکعبے ته مخ نه کړئ نوخلق به درباندے حجت قائم کړی چه مخکښ کتابونوکښ دَ دے اُمت دانښه ذکرده چه کعبے ته به مخ کوی لیکن دَکعبے دَمخ کولونه بعد بیا چه کوم خلق په تاسوپسے خبرے کوی اعتراضونه نودا ظالمان عنادیان دی۔

فائده: خوف صرف ویرے ته وائی اوخشیت ویره سره دَ تعظیم نه نودا خاص ده په الله تعالیٰ پورے اوکله دَیو بل په معنیٰ راځی۔

تنبیه: داحکم دَ(مخ ګرځولو) پنځه کرته ذکردے اول وجوب دَحکم دویم تعمیم دَاحوالودَ سفراوحضر، دریم تعمیم مکان نیزدے یا لرے، ځلورم توجه قلبی، پنځم رفع دَ احتمال دَنسخ ﴿حُجَّةٌ﴾دابه معنیٰ دَ دلیل دے یا په معنیٰ دَ جګړے کولو ﴿الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا﴾ دَ دے نه مراد عنادیان خلق دی ﴿وَلِأُتِمَّ نِعْمَتِيْ﴾ دا عطف دے په لئلا باندے اواتمام نعمت په تحویل قبله سره مراد دے ﴿وَلَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ﴾ مراد دَ دے نه زیادت دَ هدایت دے۔

[١٥١] ﴿كَمَآ أَرْسَلْنَا﴾ متعلق دے دَ أُتِمَّ نعمتی سره یعنی اتمام نعمت په تحویل قبلے سره داسے دے لکه اتمام نعمت په آخری رسول رالیګلوسره ﴿مَالَمْ تَكُوْنُوْا تَعْلَمُوْنَ﴾ نسفی وئیلی دی مراد دَ دے نه هغه احکام

اٰمَنُوا اسْتَعِيْنُوْا بِالصَّبْرِ وَالصَّلٰوةِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ مَعَ الصّٰبِرِيْنَ ﴿١٥٣﴾ وَلَا تَقُوْلُوْا لِمَنْ يُّقْتَلُ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ
اَمْوَاتٌ ؕ بَلْ اَحْيَآءٌ وَّلٰكِنْ لَّا تَشْعُرُوْنَ ﴿١٥٤﴾ وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ بِشَيْءٍ مِّنَ الْخَوْفِ وَالْجُوْعِ وَنَقْصٍ مِّنَ الْاَمْوَالِ

امداد حاصل کړئ په صبر کولو اومونځ کولو یقیناً اللّٰه خاص ملګرے دَ صبر کؤونکودے (۱۵۳) اومه وائے دَ هغو په باره کښ چه اووژلے شو په لار دَ اللّٰه تعالیٰ کښ چه دوی مړه دی بلکه ژوندی دی ارواح دَ دوی او لیکن نه پوهیږئ تاسو (دَ هغوی په ژوند باندے) (۱۵٤) اوخامخا ازمیښت کؤو مونږ په تاسوباندے په لګ څیزسره دَ ویرے نه اولوږے نه او کمو الی دَ مالونو

دی چه بغیرد وحی نه نه معلومیږی۔

[۱۵۲] دَ دے آیت نه تر(۱۵٤) پورے پنځه خبرے ذکرشوی دی دپاره دَکللك والی په دین باندے په وخت دَ مصائبواو اعتراضونو کښ۔ ذکرد اللّٰه تعالیٰ، یادول په ژبه باندے سره دَ فکرد زړه نه اوطاعت کول په بدن سره اوشکرد اللّٰه تعالیٰ، دَ نعمتونو نسبت کول دی هغه ته او دَ اللّٰه تعالیٰ په رضا باندے خرچ کول دی اوشکرپه ژبه او زړه اواندامونوټولوسره دے ﴿وَلَا تَكْفُرُوْنَ﴾ کښ دوام دَ شکرته اشاره ده اومراد دَ دے نه کفر اوالحاد وفسق وبدعت کول دی په مقابله دَ نعمتونو کښ پدے ایت کښ درے امورذکردی۔

[۱۵۳] دے آیت کښ ځلورم امرذکردے چه استعانت دے په صبراوصلوٰة سره۔ اودَ دے تفسیرپه (٤۵) کښ تیرشویدے هلته خطاب وؤ بنی اسرائیلوته نوکبیرة ئے ورته وئیلے وؤ او دلته مؤمنانوته خطاب دے نومع الصابرین سره ئے تسلی ورکړه اودَ دے نه معیت خاصه مراد دے چه هغه مدد او نصرت الٰهیه دے۔ اوصبرشامل دے صلوٰة ته دَ دے وجے نه مع المصلین ئے نه دے وئیلے۔

[۱۵٤] دا آیت نازل شویدے په رد دَ هغه چا کښ چه وئیل ئے په باره دَ شهداء بدر کښ چه دے خلقوهسے خپل ژوند او مزے بربادے کړی دی۔ پدے آیت کښ دَهغه چاشان بیانوی چه په دین کښ دومره زیات کلك اوصابروی چه په دین باندے اووژلے شی او هغه ته شهید وئیلے کیږی داسے په سورة آل عمران (۱۲۹) کښ شته۔حدیث شریف کښ راغلی دی (خلاصه ئے دا ده) چه رسول اللّٰه ﷺ په تفسیرد دے آیت کښ فرمائیلی دی۔ چه دَد وی ارواح دَشنومرغوپه خیټوکښ دی اوجنت کښ سیرکوی اوبل حدیث کښ راغلی دی احیاء فی الجنة په جنت کښ ژوندی دی۔مطلب دا دے چه دَ دے آیت نه دَشهیدانودپاره برزخی ژوند ثابت دے اودا دَ دُنیوی ژوند نه بدل اواوچت دے اودا ژوند دَپیغمبرانودپاره دیر اوچت دے۔ اوداژوند دَکافرانو دپاره هم شته لیکن هغه دَ عذاب دپاره دے.هغه په ژوند ندے حساب، او دَ مؤمنانواو شهیدانو اوپیغمبرانو برزخی ژوند دَ لذتونو اودَمزودَجنت ذپاره دے لیکن داژوند حقیقی ندے بلکه حکمی اومجازی دے دلیل په دے باندے ﴿لَا تَشْعُرُوْنَ﴾ دے اوحکمی ژوندسره لیدل اوریدل لازم ندی۔ مراد دَ ﴿اَمْوَاتٌ﴾ نه دَ عاموم‌رو پشان یا داسے چه روح ئے هم مړوی یا دَ مزونه محرومه، هسے میت (مړے) ورته وئیل جائزدی۔ ﴿بَلْ اَحْيَآءٌ﴾ دَ دے نه مراد یونوعه دَ ژوند ده چه هغے ته حیات برزخی وئیلے شی چه دَ دنیوی ژوندنه بالکل بدل دے ﴿لَا تَشْعُرُوْنَ﴾ آلوسی اوبیضاوی وئیلی دی چه دَ دے ژوند علم په حواسواوعقل سره نه حاصلیږی بلکه په وحی سره ثابت دے۔

وَالْاَنْفُسِ وَالثَّمَرٰتِ ؕ وَبَشِّرِ الصّٰبِرِيْنَ ﴿۱۵۵﴾ الَّذِيْنَ اِذَآ اَصَابَتْهُمْ مُّصِيْبَةٌ ۙ قَالُوْٓا اِنَّا لِلّٰهِ وَ اِنَّآ اِلَيْهِ
رٰجِعُوْنَ ﴿۱۵۶﴾ اُولٰٓئِكَ عَلَيْهِمْ صَلَوٰتٌ مِّنْ رَّبِّهِمْ وَرَحْمَةٌ ۟ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُهْتَدُوْنَ ﴿۱۵۷﴾ اِنَّ الصَّفَا وَ
الْمَرْوَةَ مِنْ شَعَآئِرِ اللّٰهِ ۚ فَمَنْ حَجَّ الْبَيْتَ اَوِ اعْتَمَرَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ اَنْ يَّطَّوَّفَ بِهِمَا ؕ وَمَنْ تَطَوَّعَ
خَيْرًا ۙ فَاِنَّ اللّٰهَ شَاكِرٌ عَلِيْمٌ ﴿۱۵۸﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ يَكْتُمُوْنَ مَآ اَنْزَلْنَا مِنَ الْبَيِّنٰتِ وَالْهُدٰى مِنْۢ بَعْدِ مَا بَيَّنّٰهُ

اودَ نفسونو اودَ میوونه۔ او زیرے ورکړه صبرناکو لره (۱۵۵)دا هغه کسان دی کوم وخت چه اورسیږی دوی ته څه مصیبت دوی وائی یقیناً مونږ دَ الله تعالیٰ یو اویقیناً مونږ خاص هغه ته ورګرځیدونکی یو (۱۵۶) دغه کسان دوی باندے برکات دی دَ طرف دَ رب دَ دوی نه او رحمت دے او دغه کسان دوی لارموندونکی دی (۱۵۷) یقیناً صفا او مروه دَ نخودَ دین دَ الله تعالیٰ نه دی پس چاچه حج کوو دَ بیت الله یائے عمره کوله پس هیڅ ګناه نیشته په دهٔ باندے چه ځی راځی دے دَ دغے دواړو په مینځ کښ اوچاچه په خوشحالئے سره اوکړه نیکی پس یقیناً الله تعالیٰ قبلوونکے دے پوهه دے په هرڅه باندے (۱۵۸) یقیناً هغه کسان چه پټوی هغه شے چه نازل کړے دے مونږ چه ښکاره حکمونه دی اودَ هدایت خبرے دی روستودَ هغے نه چه بیان کړے دے مونږ هغه

فائده: په دے آیت کښ پنځمه خبره ذکرده چه څوك دَالله تعالیٰ په دین باندے شهید شی نوهغه سپك مه ګڼئ۔

[۱۵۵] درے قسمه امتحانات ذکرشول، خوف، جوع، او نقص اودَ هغے کامیابی په صبرسره ده۔ اودا ابتلاء ات تشریعی هم دی او تکوینی هم دی خوف تشریعی جهاد او دعوت کول دُشمنانوته۔ جوع، دَ حرام مالونونه ځان ساتل او روژه نیول ﴿وَنَقْصٍ مِّنَ الْاَمْوَالِ﴾ دَ تجارت دَ حراموطریقونه او دَ ربوٰ رشوت وغیره نه ځان بچ کول۔ او زکوٰة او واجبات مالیه اداکول ﴿وَالْاَنْفُسِ﴾ په جهادکښ شهادت ﴿وَالثَّمَرٰتِ﴾ آمد نئے دَ تجارت زراعت په صحیح مصرفونوکښ خرچ کول۔ اوتکوینی ویره دَ دُشمنانو اوزهریلی وغیره ځناورونه، لوګه، چه روزی نه ملاویګی دَفقردَ وجے نه، اونقصان دَمالونوپه هلاکیدلو روکیدلو، اونقصان دَ انفسو مړکیدل، اونقصان دَثمراتوقحط راتلل یا اولاد مړکیدل دا ابتلائات تکوینیه دی۔

[۱۵۶] په دے کښ تفسیردَصابرینودے داکلمه لوستل په هرمصیبت کښ پکار ده مړګ پورے خاص نه ده ﴿قَالُوْا﴾ مراد دَ دے قول نه دا دے چه په زړه کښ عقیده فرض ده اوپه ژبه لوستل سنت دی ﴿اِنَّا لِلّٰهِ﴾ په اعتباردَمِلك اومُلك اوعبدیت سره مونږ خاص دَالله تعالیٰ یو زمونږ دَاختیارڅه څیزنیشته ﴿وَاِنَّآ اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ﴾ یعنی فنابه ټولوباندے راځی اوبیا حساب کتاب ته پیشی ده په دے عقیدے سره هرتکلیف آسانیږی۔

[۱۵۷] دَ درے صفاتودرے جزاګانے دی دَصبر، قول انالله اوقول واناالیه راجعون۔ په لف نشر مرتب سره یا په مجموعی طور سره ﴿صَلَوٰتٌ﴾ په دے کښ خصوصی رحمتونه او نعمتونه مراد دی او رحمة کښ عام رحمتونه مراد دی او ﴿مُهْتَدُوْنَ﴾ مراد دَ دے نه کامیابئے موندل دی په مقاصدو دینیه او دُنیویه سره۔

[۱۵۸] پدے آیت کښ دَ نهمے شبهے جواب دے چه صفا باندے په جاهلیت زمانه کښ اُساف بت پروت وؤ او مروه باندے نائله وؤمشرکانوبه دَ دوی طواف کوؤ هرکله چه په اسلام کښ هم دا حکم وو

لِلنَّاسِ فِي الْكِتٰبِ ۙ اُولٰٓئِكَ يَلْعَنُهُمُ اللّٰهُ وَيَلْعَنُهُمُ اللّٰعِنُوْنَ ﴿١٥٩﴾ اِلَّا الَّذِيْنَ تَابُوْا وَاَصْلَحُوْا وَبَيَّنُوْا
فَاُولٰٓئِكَ اَتُوْبُ عَلَيْهِمْ ۚ وَاَنَا التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ ﴿١٦٠﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَمَاتُوْا وَهُمْ كُفَّارٌ اُولٰٓئِكَ عَلَيْهِمْ

دپاره دَ خلقوپه کتاب کښ، دغه کسان لعنت کوی په دوی باندے اللّٰه تعالیٰ او لعنت کوی پدوی باندے لعنت کؤونکی (۱۵۹) مګرهغه کسان چه توبه اوباسی اونیك عمل کوی اوبیان اوکړی (دَ هغے چه پټ کړے وی) پس دغه کسان توبه قبلووم دَ دوی او ځه ډیرتوبه قبلوونکے رحم والایم (۱۶۰) یقیناً هغه کسان چه کفرئے کړے دے او مړه شی او حال داچه دوی کفر کؤونکی وی دغه کسان په دوی باندے

چه دَ صفا او مروه طواف کوئ نویهودیانو اومشرکانواعتراض اوکړوچه مونږدَ شرك نه منع کوئ اوپخپله دَ شرك مشابهت کوئ اوپدے سره دَ بعضِ مؤمنانوپه زړونو کښ هم شبه پیدا شوه لکه چه حدیث دَ بخاری کښ دَ انصاروذکردے چه یوے ډلے په جاهلیت کښ دَ مناة طواف کوؤاودَصفا مروه طواف ئیے نارواګنړلواوبلے ډلے په جاهلیت کښ دَ صفا اومروه طواف کوؤلیکن په اسلام کښ ئے داګناه ګنړلو۔ جواب اوشوچه داپه اصل کښ دَ توحید ځایونه دی دَ مشرکانوپه شرك سره هغے ته نقصان نه رسی۔ ﴿شَعَآئِرِ اللّٰهِ﴾ جمع دَ شعیرة ده خاص علامت دَځیزته وئیلے شی اومراد دَ دے هرهغه طاعت اوعبادت اومحل دَ هغے چه خاص نخه ګرځولے شویده دپاره دَ دین اسلام چه په هغے سره مسلمانان پیژندلے کیږی۔ **حج**: په لغت کښ صرف قصدته وئیلے شی اوپه شریعت کښ خاص عبادت ګرزولے شویدے متعلق دَکعبے اونیزدے دَ هغے سره ﴿اَوِ اعْتَمَرَ﴾ عمره په لغت کښ صِرف زیارت ته وئیلے شی اوپه شریعت کښ خاص عبادت ګرځولے شویدے ﴿لَاجُنَاحَ عَلَيْهِ﴾ مقصد ئے دا دے چه کول دَ دے ګناه مه ګنړئ بلکه واجب دے۔ **طواف**: ډیر تلل راتللو ته وئیلے شی مراد دَ دے نه سعی کول دی په مینځ دَصفا اومروه کښ په سنت طریقے سره۔

[۱۵۹] پدے آیت کښ حق پټوونکوته دَدُنیا دَ عذاب ویره ده او آیت عام دے یهودیانو پورے خاص ندے۔ اومؤمن له پکاردی چه په دوی باندے لعنت وائی ﴿الْبَيِّنٰتِ وَالْهُدٰى﴾ بینات نه مراد سکاره دلیلونه دَ رسالت دَرسول اللّٰه ﷺ اوهدیٰ نه مراد احکام شرعیه دی دارنګ بینات نه مراد وحی جلی ده لکه تورات اوقرآن او الهدیٰ، نه مراد وحی خفی یعنی سنت دَ موسیٰ علیه السلام اوسنت زمونږ دَنبی ﷺ دی۔ اوکتمان پټول دَ ځیزیه قصد سره ﴿مِنْۢ بَعْدِ مَا بَيَّنّٰهُ﴾ په دے کښ ازالے دَعذرته اشاره ده اودارنګ ذکردَ احسانِ الٰهی دے ﴿اللّٰعِنُوْنَ﴾ ملائك اومؤمنان مراد دی۔

[۱۶۰] پدے آیت کښ دَ حق پټوونکوتوبه اودرے شرطونه ذکردی۔ توبه اصلاح دَ عمل او اظهار دَپټو کړومسئلو۔

لَعْنَةُ اللّٰهِ وَالْمَلٰٓئِكَةِ وَالنَّاسِ اَجْمَعِيْنَ ﴿١٦١﴾ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۚ لَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ وَلَا هُمْ يُنْظَرُوْنَ ﴿١٦٢﴾
وَاِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِيْمُ ﴿١٦٣﴾ اِنَّ فِيْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَاخْتِلَافِ الَّيْلِ
وَالنَّهَارِ وَالْفُلْكِ الَّتِيْ تَجْرِيْ فِي الْبَحْرِ بِمَا يَنْفَعُ النَّاسَ وَمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ مِنَ السَّمَآءِ مِنْ
مَّآءٍ فَاَحْيَا بِهِ الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَبَثَّ فِيْهَا مِنْ كُلِّ دَآبَّةٍ ۖ وَّتَصْرِيْفِ الرِّيٰحِ وَالسَّحَابِ

لعنت دے دَ اللّٰه تعالیٰ اودَ ملائکو اودَ خلقو ټولو(١٦١) همیشه به وی په هغے کښ نه به شی سپکولے دَ دوی نه عذاب اونه به دوی له مهلت ورکیدے شی (١٦٢) اوحقدار دَ بندګئ ستاسو معبود یودے، نیشته دَ خدائیتوب صفتونو والا سیوا دَ هغه نه عام مهربان او خاص رحم کؤونکے دے (١٦٣)یقیناً په پیدائش دَ آسمانونو اودَ زمکه کښ او په تلو راتلو دَ شپے او دَ ورځ کښ اوپه کشتوکښ هغه چه چلیږی په دریاب کښ په سبب دَ فائدے دَ خلقو اوپه هغه څیزکښ چه راور ولی دی اللّٰه تعالیٰ دَ اسمان دَ طرف نه څه اوبه پس تازه کړے ده په هغے سره زمکه پس دَ اوچوالی دَ هغے نه اوخواره کړی دی په هغے کښ هرقسم زنده سراوپه ګرځیدو دَ بادونو اودَ وریځو

[١٦٢،١٦١] په دے آیتونو کښ حق پټوؤنکو ته دَآخرت دَ عذاب ویره ده او دَ ﴿كَفَرُوْا﴾ نه مراد هغه خلق دی چه حق ئے په ضد اوپه عناد سره پټ کړے دے ﴿وَمَاتُوْا﴾ اشاره ده چه توبه ئے دَ کتمان نه ویستلے نه ده او دا دلیل دے چه دَ چا موت په کفرباندے معلوم نه وی نوپه هغه باندے شخصی لعنت کول جائزنه دی﴿وَالنَّاسِ﴾ کښ دَ دوی مریدان هم داخل دی هغوی به پرے هم لعنت کوی لکه سورة اعراف (٣٨) او سورة عنکبوت (٢٥)کښ دی ﴿فِيْهَا﴾ ضمیرلعنت اوجهنم ته راجع دے ﴿لَايُخَفَّفُ﴾ دَ دے تعلق روستودَشورو کیدلودَعذاب نه دے ﴿وَلَاهُمْ يُنْظَرُوْنَ﴾ دَ دے تعلق مخکے دَراتللو دَ عذاب نه دے۔

[١٦٣] دَ دے نه تر (١٧٦) پورے دَ دے حصے څلورم باب دے پدے کښ دعویٰ دَ توحید په دویم کرت اوپه هغے باندے لس عقلی دلیلونه، احوال دَاعیانواوبیا زورنه مشرکانوته او برائت دَ باطلو معبودانو دَ خپلو عابدانونه او رد په تحریمات دَ غیراللّٰه او دَ هغوی په دلیل اوردپه نذردَغیراللّٰه باندے اوحق پټوؤنکوته سخته ویره اُخروی ده۔ پدے آیت کښ مسئله دَ توحید ده اله هغه ذات دے چه دَ هغه حق بندګی کیږی اوحاجتونه پوره کوی۔ او مصیبتونو اوتکلیفونو کښ مددکوی اوضرر لرے کوی او مالك دَ نفع اوضرروی ﴿لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ﴾ په دے کښ دفع دَ وهم ده هغه داچه کیدیشی چه لوئے اله به یووی او واړه الهه نور کیدیشی نو جواب اوشو په لااله الاهو سره مطلب دا دے چه دَ الوهیت او دَ خدائیتوب صفتونه په بل چاکښ امکان هم نه لری۔ موجود کیدل دَ بل اله خوډیره لرے خبره ده ﴿الرَّحْمٰنُ الرَّحِيْمُ﴾ په دے صفاتو کښ اشاره ده چه نعمتونه ورکوؤنکے اللّٰه تعالیٰ دے نو تحلیل اوتحریم هم دَ هغه په اختیار کښ دے نو رد دے په شرك فی التحلیل والتحریم باندے۔

الْمُسَخَّرِ بَيْنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ﴿١٦٤﴾ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّتَّخِذُ مِنْ دُوْنِ
اللّٰهِ اَنْدَادًا يُّحِبُّوْنَهُمْ كَحُبِّ اللّٰهِ ؕ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَشَدُّ حُبًّا لِّلّٰهِ ؕ وَلَوْ يَرَى الَّذِيْنَ ظَلَمُوْٓا اِذْ يَرَوْنَ
الْعَذَابَ ۙ اَنَّ الْقُوَّةَ لِلّٰهِ جَمِيْعًا ۙ وَّاَنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعَذَابِ ﴿١٦٥﴾ اِذْ تَبَرَّاَ الَّذِيْنَ اتُّبِعُوْا مِنَ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْا
وَرَاَوُا الْعَذَابَ وَتَقَطَّعَتْ بِهِمُ الْاَسْبَابُ ﴿١٦٦﴾ وَقَالَ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْا لَوْ اَنَّ لَنَا كَرَّةً فَنَتَبَرَّاَ مِنْهُمْ كَمَا

چه زوړند دی (په حکم دَ اللّٰه تعالیٰ) په مینځ دَ اسمان اوزمکه کښ دلیلونه دَ توحید دی دپاره دَ هغه قوم چه عقل نه کار اخلی (١٦٤) اوبعض دَ خلقونه هغه دی چه کنړی سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه شریکان مینه کوی دَ هغوی سره پشان دَ مینے دَ دوی دَ اللّٰه تعالیٰ سره اوایمان والاخه کلك دی په مینه دَ اللّٰه تعالیٰ کښ، اوکه پوهیدے هغه ځوك چه شرك ئے کړے دے کله چه اوویني دوی عذاب په دے خبره چه یقیناً طاقت دَ یواللّٰه تعالیٰ دے ټول اویقیناً اللّٰه تعالیٰ سخت عذاب والادے (نودوی به شرك نه وے کړے) (١٦٥) کله چه جدائی به اوکړی هغه خلق چه تابعداری کړے شوے دے۔ دَ تابعدارو خپلونه اودوی به اوویني عذاب لره اوپرے به شی دَ دوی تعلقات دَ یوبل سره (١٦٦) او اوبه وائی تابعداران دَ دوی ارمان چه وے مونږ لره دوباره تلل دنیاته پس جدائی به اوکړو مونږ دَ دوینه لکه

[١٦٤] پدے آیت کښ عقلی دلیلونه دی په ذکردَلسوخیزونوسره چه دلالت کوی په توحید باندے ﴿خَلْقِ السَّمٰوٰتِ﴾ په دے کښ نَور سپوکمئے ستوری هم داخل دی ﴿وَالْاَرْضِ﴾ په دے کښ غرونه اونے بوټی ټول داخل دی ﴿وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ﴾ په دے کښ اختلاف دَ دے په رنړا اوتیرے سره اولوئے کیدل وړوکے کیدل اویوبل پسے تله راتله داخل دی ﴿بِمَا يَنْفَعُ النَّاسَ﴾ په دے کښ اشاره ده چه دَ دریاب سفربغیرد قصد دَ نفع دُنیوی او اُخروی نه جائزنه دے ﴿وَتَصْرِيْفِ الرِّيَاحِ﴾ دَمختلفو طرفونونه رالوتل اوتیزیدل اوپه دمه کیدل په کښ داخل دی۔

[١٦٥] پدے آیت کښ زورنه ده مشرکانوته، مراد دَ انداد نه مشرکان پیران او ملایان اومشران دی چه کشرانوته ئے شرك او بدعت خودلے وو او دوی دَ هغوی شرکی تقلید کوو اوهغے ته محبت وائی۔ ﴿يُحِبُّوْنَهُمْ﴾ په معنیٰ دَ دے چه تابعداری کوی دَهغوی یا محبت په معنیٰ حقیقی سره دے اوهغه مستلزم دے عبادتونو بدنیه اومالیه لره ﴿كَحُبِّ اللّٰهِ﴾ اشاره ده چه محبت دَغیر اللّٰه سره په هغه وخت کښ شرك دے چه برابرشی دَمحبت الٰهیه سره ﴿وَلَوْيَرَى﴾ رویت دَسترګومراد دے اومفعول ئے پټ دے ﴿الْعَذَابَ﴾ اوجزاء دَ لَوُهم پټه ده یعنی ﴿لَعَلِمُوْا اَنَّ الْقُوَّةَ لِلّٰهِ جَمِيْعًا﴾ یارویت علمی مراد دے اوان القوة آه دَ دوه مفعولوپه ځائے دے اوپه آخرکښ جزاء پټه ده یعنی لما اشرکوا (دوی به شرك نوے کړے)﴿اَشَدُّ حُبًّا﴾ یعنی مؤمنان دَاللّٰه تعالیٰ دَطاعت پشان دَ بل چا طاعت نه کوی او دَ اللّٰه تعالیٰ دَطاعت دپاره دَنورو خلقوطاعت پریږدی نودَ دوی طاعت ځکه کلك دے۔

[١٦٧،١٦٦] په دے دواړوآیتونوکښ دَ دوی دَپیرانواومریدانودَیوبل نه براء ت ذکرکوی په ورځ دَآخرت کښ ﴿مِنَ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْا﴾ متبوعین په دے آیت کښ عام دی که نیکان وی اوکه بدان وی اودَ برائت مطلب داچه دوی به اوائی چه مونږ خوتاسوته حکم دَ تابعداریٔ زمونږ نه دے کړے تاسو ولے

تَبَرَّءُوْا مِنَّا ؕ كَذٰلِكَ يُرِيْهِمُ اللّٰهُ اَعْمَالَهُمْ حَسَرٰتٍ عَلَيْهِمْ ؕ وَمَا هُمْ بِخٰرِجِيْنَ مِنَ النَّارِ ﴿١٦٧﴾ يٰۤاَيُّهَا
النَّاسُ كُلُوْا مِمَّا فِى الْاَرْضِ حَلٰلًا طَيِّبًا ۖ وَّلَا تَتَّبِعُوْا خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ ؕ اِنَّهٗ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ﴿١٦٨﴾
اِنَّمَا يَاْمُرُكُمْ بِالسُّوْٓءِ وَالْفَحْشَآءِ وَاَنْ تَقُوْلُوْا عَلَى اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿١٦٩﴾ وَاِذَا قِيْلَ لَهُمُ اتَّبِعُوْا
مَاۤ اَنْزَلَ اللّٰهُ قَالُوْا بَلْ نَتَّبِعُ مَاۤ اَلْفَيْنَا عَلَيْهِ اٰبَآءَنَا ؕ اَوَلَوْ كَانَ اٰبَآؤُهُمْ لَا يَعْقِلُوْنَ شَيْـًٔا

چه دوی جدائی او کړه ځمونږ نه دغسے ځائی به دوی ته اللّٰه تعالیٰ عملونه دَ دوی دپاره دَ افسوسونوپه دوی باندے اونه به وی دوی وتونکی دَ اورنه (١٦٧) اے خلقو خورئے (حلال ګنړئے) دَ هغه نه چه په زمکه کښ دی حلال پاك او تابعداری مه کوئے دَ قدمونو (طریقو) دَ شیطان یقیناً دے ستاسو دپاره دشمن ښکاره دے (١٦٨) یقیناً حکم کوی په وسوسو سره تاسوته په بدو ویناګانو اوپه ناکاره کارونو اوچه جوړ وئے په اللّٰه تعالیٰ باندے هغه خبرے چه تاسو په هغے پوهه نه لرئ (په دلیل سره) (١٦٩) اوهغه وخت چه اُویلے شی دویته تابعداری اوکړئے دَ هغه څه چه نازل کړے دے اللّٰه تعالیٰ دوی وائی(نه) بلکه مونږ تابعداری کؤو دَ هغه طریقے چه موندلی مونږپه هغے باندے مشران خپل آیا (دوی دَ هغوی تابعداری کوی) اګرچه ؤودغه مشران دَ دوی نه پوهیدل دَ دین په هیڅ څیز

زمونږ بغیرد دلیل نه اتباع کړے ده ﴿كَذٰلِكَ يُرِيْهِمُ اللّٰهُ﴾ یعني لکه دَ دے عمل باطله نتیجه مِلاؤشوه دارنګ ټول اعمال کفریه شرکیه او بدعیه به دَ دوی باطل شی او دوی به دَ هغے په کولو باندے افسوسونه کوی۔

[١٦٨] پدے آیت کښ رد دَ(شرك فعلی) تحریمات دَغیراللّٰه دی۔ اوهغه دا دے چه یوشے اللّٰه تعالیٰ حلال کړے وی لیکن څوك ئے پدے وجه حرام ګنړی چه که داحلال کړم اوفائده ترینه واخلم، نوفلان ولی بزرګ ماته ټکره راکوی لکه جاهلیت والو بحیره سائبه وغیره جوړکړی وو۔ یا چه اوس څوك دَمړبزرګ دَقبرپه خواکښ دَ مرغو ښکار یا دَ مهوښکارنه ځان ساتی چه ټکره به راته اورسیږ دارنګ باطل پرست پیرانو په خپل مریدانو جامے اغوستل یابنه خوراك کول حرام کړی وی او دے ته ریاضت وائی دَ دے حکم په شرع کښ دا دے چه دغه شے حرام نه دے څوپورے چه نذر دَغیر اللّٰه نه وی او دَ دے کول اومنل شرك دے ﴿خُطُوٰتِ﴾ نه مراد ټول ګناهونه او بدعات دی چه دَ شیطان په وسوسه سره پیداکیږی ﴿كُلُوْا﴾ مراد دَ دے نه واجب کول دَ خوراك نه دی بلکه معنیٰ دا ده چه په ځان باندے مه حراموئے۔

[١٦٩] دا علت دے دَ دُشمنئ دَ شیطان او تقوّل علی اللّٰه تعالیٰ (یعنی په اللّٰه تعالیٰ دروغ جوړول) دَ شرك اوبدعت جړ دے ﴿بِالسُّوْٓءِ وَالْفَحْشَآءِ﴾ فرق په څووجوهوسره دے سوء قولی ګناهونه اوفحشاء عملی ګناهونه۔ اوسوء، هغه چه شرع سره دَ هغے بدی معلومیږی اوفحشاء، هغه چه په عقل سره هم دَهغے قباحت معلوم وی، اوسوء، هغه ګناه دے چه حدپکښ نه وی اوفحشاء، هغه ګناه دے چه حد شرعی پکښ مقرر وی۔

وَلَا يَهْتَدُوْنَ ﴿١٧٠﴾ وَمَثَلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا كَمَثَلِ الَّذِيْ يَنْعِقُ بِمَا لَا يَسْمَعُ اِلَّا دُعَآءً وَّنِدَآءً ؕ صُمٌّۢ بُكْمٌ عُمْيٌ فَهُمْ لَا يَعْقِلُوْنَ ﴿١٧١﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُلُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا رَزَقْنٰكُمْ وَاشْكُرُوْا لِلّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ اِيَّاهُ تَعْبُدُوْنَ ﴿١٧٢﴾ اِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ الْخِنْزِيْرِ وَمَاۤ اُهِلَّ بِهٖ لِغَيْرِ اللّٰهِ ۚ فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَّلَا عَادٍ فَلَاۤ اِثْمَ عَلَيْهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١٧٣﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ

اونه ئے لارموندلے وه (۱۷۰) اوحال (دَ دعوت کؤونکی) کافرانوپه شان دَ حال دَ هغه کس دے چه چغے وهی هغه څاروونه چه نه آوری هیڅ مګربلنه اوچغه، دوی کانړه دی، چاړاکان دی، رانده دی پس دوی عقل نه لری (۱۷۱) اے ایمان والو خورئے دَ پاك حلال هغے نه چه درکړی دی مونږ تاسوته، اوشکرکوئے دَ الله تعالیٰ که تاسوخاص هغه له بندګی کوے (۱۷۲)یقیناً حرام کړے ده الله تعالیٰ په تاسوباندے مرداره او وینه اوغوښه دَ خنزیر اوهغه شے چه آوازکړے شوے وی په هغے باندے دپاره دَ نذر دَ غیرالله۔پس هغه څوك چه مجبوره شوخوراك ته اوچه نه وی زیاتے کؤونکے په بل باندے اونه تیریدونکے دَ حد نه پس نیشته ګناه په هغه باندے، یقیناً الله تعالیٰ بخنه کؤونکے دے رحم کوونکے دے (۱۷۳) یقیناً هغه کسان

[۱۷۰]پدے آیت کښ رد دے په دلیل دَمشرکانوهغوی وائی مونږدَمشرانوطریقه منواودَهغے نه بغیرنورے طریقے نه منواودیته تقلید شرکی اومذموم وائی۔اوتقلید جائزدا دے چه دَعالم اودَمهتدی خبره منی پدے وجه چه هغه خبره په دلیل سره کړے ده نو دا اصل کښ تابعداری دَدلیل ده۔لیکن هرکله چه ورته معلومه شی چه دغه قول دَعالم دَصریح نص نه خلاف دے نوبیا دَهغے پریخودل واجب دی اوکه پرے نږدی نودا تقلید شرکی دے۔ تفسیربحرالعلوم اوتفسیرابن عطیه کښ لیکلی دی چه دا آیت رد دے په تقلیدباندے اومشرکانواګرچه تقلید دَ ګمراهانو کړے دے لیکن تقلید دَ امامانوچه بے دلیله وی نوهغه دَ هغے په ذیل کښ داخل دے ﴿آبَآءَنَا﴾ مراد دَ دے مشران علماء دی اوداسے په سورة مائده(۱۰٤)اوسورة لقمان (۲۱) اوسورة زخرف(۲۲،۲۳) کښ شته۔

[۱۷۱] دا مثال دے مطلب ئے دا دے لکه چه څاروی په خبره نه پوهیږی صرف آواز اوری دارنګ دا مشرك تقلیدکوؤنکے دَ مشرانوپه حقیقت نه پوهیږی چه دوی سره دلیل شرعی شته اوکه نیشته صرف په ظاهردَهغوی باندے دهوکه کیږی یا دا مثال دَ داعی دَ دغه کافرانومقلدینودے چه داعی پشان دَ شپونکی دے اوداکافران پشان دَ څاروؤ دی۔

[۱۷۲] دا خاص خطاب دے پس دَ عام نه دَپاره دَ شرك فعلی (په حلال اوحرام کښ) او آیت کښ اشاره ده چه دَ الله تعالیٰ نعمتونه په صحیح طریقه استعمالول افراد دَ عبادت دی۔

[۱۷۳] په دے آیت کښ ذکر دے دَ څلور محرماتو په باره دَ خوراك کښ چه په ټولودینونوکښ حرام دی او رد دے په هغه چا باندے چه دَ دے حرامو تحلیل کوی او دارنګ پدے ایت کښ رد دے په نذر دَ غیرالله باندے اشاره ده دیته لکه چه مرداره او وینه اوخنزیرحرام دی نو دَ هغے نه زیات منخته دَ غیر الله حرام ده ﴿وَمَآ اُهِلَّ بِهٖ لِغَيْرِ اللّٰهِ﴾ مراد هر هغه شے دے چه اُویلے شی چه دا شکرانه یا منخته دَ فلانی ولی او بابا ده نو پدے کښ ذبح کول په نوم دَ غیر الله هم داخل ده۔ اوچه منخته دَ غیرالله په نوم اوکړی نوبیاپه بسم الله

يَكْتُمُوْنَ مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ مِنَ الْكِتٰبِ وَيَشْتَرُوْنَ بِهٖ ثَمَنًا قَلِيْلًا ۙ اُولٰٓئِكَ مَا يَاْكُلُوْنَ فِيْ بُطُوْنِهِمْ اِلَّا النَّارَ وَلَا يُكَلِّمُهُمُ اللّٰهُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَلَا يُزَكِّيْهِمْ ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿١٧٤﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ اشْتَرَوُا الضَّلٰلَةَ بِالْهُدٰى وَالْعَذَابَ بِالْمَغْفِرَةِ ۚ فَمَآ اَصْبَرَهُمْ عَلَى النَّارِ ﴿١٧٥﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ نَزَّلَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ ؕ وَاِنَّ الَّذِيْنَ اخْتَلَفُوْا فِي الْكِتٰبِ لَفِيْ شِقَاقٍ بَعِيْدٍ ﴿١٧٦﴾ لَيْسَ الْبِرَّ اَنْ تُوَلُّوْا وُجُوْهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَ

ع ١٥

چه پټوی هغه چه نازل کړے دے الله تعالیٰ دَ خپل کتاب نه او حاصلوی په هغے سره قیمت لږ (ټوله دنیا) دغه کسان نه خوری دوی په خپلو خپلو کښ مګر اور، او خبرے به نه کوی دوی سره الله تعالیٰ په ورځ دَ قیامت اونه به پاکوی دوی لره۔ او دوی دپاره عذاب درد ناك دے(١٧٤) دا هغه کسان دی چه اغستے ده ګمراهی په بدله دَ هدایت کښ او عذاب په بدله دَ بخنه کښ پس څه عجیبه صبر دے دَ دوی په اور باندے (١٧٥) دا (عذاب) په دے وجه دے چه الله تعالیٰ نازل کړے دے کتاب دَ حق دپاره (او دوی پکښ مختلف دی) اویقیناً هغه کسان چه اختلاف ئے کړے دے په کتاب کښ خامخا په دشمنئ لرے کښ دی (دَ حق نه) (١٧٦) نه ده نیکی (خاص) دا خبره چه او ګرځوئے مخونه خپل طرف دَ مشرق او

ذبح کولوسره نه حلالیږی۔ لکه چه مرداره باندے بسم الله اُوائی نو خوړل ئے هم نه دی حلال۔ اولفظ دَما عام دے حیوان اوغیرحیوان ته ﴿اُهِلَّ﴾ داپه معنیٰ دَ آوازاوچتولوسره دے په ذبح پورے خاص نه دے ﴿بِهٖ﴾ با په معنیٰ دَعلی ده ﴿لِغَيْرِ اللّٰهِ﴾ لام دپاره دَ تقرب دے اومراد دَ تقرب نه عبادت دَ نذرکولودے۔ ﴿فَمَنِ اضْطُرَّ﴾ مجبوری دَ وجے دَسختے لوګے نه یاپه سبب دَ اکراه دَکافرانو او ظالمانو سره ﴿غَيْرَ بَاغٍ وَّلَا عَادٍ﴾ باغی نه مراد دَ حدنه زیات خوړونکے اودَ عادی نه مراد دَ ملګری برخه خوړونکے۔ یا باغی طلب ګاردَ دغه حرامو۔ او عادی دَ حدنه زیاتے کوؤنکے په خوراك کښ اودَځان سره اوړونکے۔

[١٧٤] دے ایت کښ سخته ویره ورکوی پټوونکودَحق ته۔ دلته هغه خلق مراد دی چه حق هم پټوی او دَ دُنیا مال وغیره په هغے سره حاصلوی۔ یعنی (کتمان) پټول دَحق دَ دنیا په حرص سره کوی نودوی بدتردَ هغه چا دی چه په (١٥٩) کښ ذکرشوی وؤ دَ دے وجے نه دَ دوی ځلورعذابونه پدے آیت کښ ذکردی۔ ﴿مَا يَاْكُلُوْنَ فِيْ بُطُوْنِهِمْ﴾ لفظ دَ فی بطونهم ئے دَ دے دپاره اضافه کړے دے چه معلومه شی چه دلته دَ اکل نه مراد خوړل دی صرف اغستل نه دی او دارنګ په دے سره اشاره ده پدے خوراك ته تردے پورے چه بنه مورِشی ﴿وَلَا يُكَلِّمُهُمُ اللّٰهُ﴾ داکنایه ده دَ سخت خفګان دَالله تعالیٰ نه او خبرے دَحساب کتاب به کوی ورسره خوپه واسطه دَ ملائکوسره ﴿وَلَا يُزَكِّيْهِمْ﴾ دَکناهونونه به ئے نه پاکوی په معافئے کولوسره یا دَ عذاب نه به ئے نه بچ کوی۔

[١٧٥] پدے آیت کښ دوه بد حالئی دَ دوی ذکر دی یواشتراء دَګمراهئے په هدایت سره دویم اور دَ جهنم ﴿فَمَآ اَصْبَرَهُمْ عَلَى النَّارِ﴾ دا دَ تعجب په مقام کښ ذکرکیږی دپاره دَ دے چه اوریدونکی دَ دے دَحال نه تعجب اوکړی اودے ته صبرمذموم ویلے شی۔

[١٧٦] پدے آیت کښ سبب دَ عذاب ذکرشوے دے چه هغه اختلاف دے په مقاصدو دَکتاب الله کښ اواختلاف پیداشوے دے په سبب دَ کتمان دَ حق سره ﴿نَزَّلَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ﴾ دَ دے نه روستو فاختلفوا پټ

الْمَغْرِبِ وَلٰكِنَّ الْبِرَّ مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَالْمَلٰٓئِكَةِ وَالْكِتٰبِ وَالنَّبِيّٖنَ ۚ وَاٰتَى الْمَالَ عَلٰى حُبِّهٖ
ذَوِي الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنَ وَابْنَ السَّبِيْلِ ۙ وَالسَّآئِلِيْنَ وَفِي الرِّقَابِ ۚ وَاَقَامَ الصَّلٰوةَ وَ
اٰتَى الزَّكٰوةَ ۚ وَالْمُوْفُوْنَ بِعَهْدِهِمْ اِذَا عٰهَدُوْا ۚ وَالصّٰبِرِيْنَ فِي الْبَاْسَآءِ وَالضَّرَّآءِ وَحِيْنَ الْبَاْسِ ؕ
اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ صَدَقُوْا ؕ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُتَّقُوْنَ ﴿١٧٧﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ فِي

دَ مغرب ته اولیکن نیکی (نیکی) دَ هغه چاده چه ایمان ئیے راوړے وی په الله تعالی او په ورځ روستنئے او په ملائکو او په کتابونو او په پیغمبرانو باندے او ورکوی مال په مینه دَ هغه خپلوانوته او یتیمانو ته اومسکینانوته او مسافروته اوسوال کوؤنکوته او په آزادولودَ څټهونو کښ۔ اوپابندی کوی دَ مانځه او ورکوی زکوٰة اوپوره کؤنکی وی دَ وعدو خپلو کله چه وعده اوکړی (اودَ صفت لائق دی) صبرناك په سختئے (مالی) کښ اوپه مرضونو کښ اوپه وخت دَ جنګ کښ دغه کسان رشتینی دی اودغه کسان خاص دوی پرهیزګاران دی (۱۷۷) اے ایمان والو فرض کړے شوے دے په تاسوباندے (جاری کول) دَ قصاص په باره دَ

مراد دے ځکه چه صِرف نزول دَکتاب الله سبب دَ عذاب نه دے او دارنګ ورپسے ذکردَ اختلاف دے ﴿شِقَاقٍ﴾ هغه دُشمنی چه په مینځ کښ پوره قطع تعلق پیداکړی، ﴿بَعِيْدٍ﴾ دَحق نه په ډیرمرحلوسره لرے ده اشاره ده چه دوی دومره زیات ګمراه شویدی چه دَحق یوذره پکښ پاتے شوے نه ده۔

[۱۷۷] دَ دے آیت نه تر(۲۷٤) پورے دریمه حصه ده په باره دَ جهادکښ اوپدے کښ ځلور بابونه دی۔ اول باب دَ دے ایت نه تر(۱۹۵) پورے دے۔ پدے کښ لس اموردی دپاره دَ تهذیب الاخلاق پنځه دَ عقیدے او پنځه دَ عملونو بدنی او مالی سره تعلق لری اشاره ده چه اول دَ خپل نفس صفائی ضروری ده بیا ځلور اموردَکردی دَپاره دَ سیاست مدنی، قصاص، وصیت دَ معروف، روژه، منع دَ حرا م مالونونه اوپه دے کښ مقصد امن راوستل دی۔ یو امن دَ نفسونو دے چه یوظاهری دے لکه قصاص، دویم اخلاقی دے لکه روژه، دریم امن دَ مالونو دے هغه یو په صحیح وصیت سره دے، دویم دَ حرام مالونونه په بچ کیدلو سره دے۔ بیا اعلان جنګ دے سره دَ آدابو دَهغے نه اوسره دَ ترغیب دَخرچ کولونه۔ اهل کتابودَ قبلے مسئله دَ نیکئی معیار ګرځولے وو، اګرچه شرك ئے کوؤ اوانکار دَ رسول ئیے کوؤ لیکن وئیل ئے چه څوك قبلے ته مخ کوی نو هغه جنتی دے۔ جواب اوشو په دے ایت کښ چه دَ نیکئی او دَجنت دارومدار په صحیح عقیده دے صرف په قبله باندے نه دے۔

فائده: زمونږ په شریعت کښ اهل قبله هغه چاته وئیلے کیږی چه توحید رسالت اودَ دین ټول ضروریات منی اوقبله کعبه منی، نو هغه ته کافرنه وئیلے کیږی۔ نوکه څوك کفرکوی یا شرك کوی اوقبلے ته مونځونه هم کوی نوهغه مؤمن نشی کیدے لکه مرزائی چه دَختم نبوت منکردے اوقبرپرست پیرپرست چه قبرونواوپیرانوته سجدے اوعبادات کوی ﴿اَلْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ﴾ دائے په طریقه دَمثال سره ذکرکړی دی مرادترینه قبله شرعیه ده ﴿عَلٰى حُبِّهٖ﴾ ضمیر دَ (ه) راجع دے الله تعالی ته یاراجع دے مال ته۔ محبت دَ مال دا دے چه قیمتی مال وی یا دَوخت دَ زنکدن نه مخکښ وی ﴿وَفِي الرِّقَابِ﴾ دَ چاخټ بند وی په غلامئ

اَلْقَتْلٰى ؕ اَلْحُرُّ بِالْحُرِّ وَالْعَبْدُ بِالْعَبْدِ وَالْاُنْثٰى بِالْاُنْثٰى ؕ فَمَنْ عُفِيَ لَهٗ مِنْ اَخِيْهِ شَيْءٌ فَاتِّبَاعٌ
بِالْمَعْرُوْفِ وَاَدَآءٌ اِلَيْهِ بِاِحْسَانٍ ؕ ذٰلِكَ تَخْفِيْفٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَرَحْمَةٌ ؕ فَمَنِ اعْتَدٰى بَعْدَ ذٰلِكَ
فَلَهٗ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۱۷۸﴾ وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيٰوةٌ يّٰۤاُولِي الْاَلْبَابِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿۱۷۹﴾ كُتِبَ عَلَيْكُمْ اِذَا
حَضَرَ اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ اِنْ تَرَكَ خَيْرَا ۖ الْوَصِيَّةُ لِلْوَالِدَيْنِ وَالْاَقْرَبِيْنَ بِالْمَعْرُوْفِ ۚ حَقًّا عَلَى

وژلے شؤو کښ، آزاد وژلے کیږی په بدل دَ آزاد کښ اومرئے په بدل دَ مرئی کښ او زنانه په بدل دَ زنانه کښ پس هغه څوك چه معافے اوکړے شو هغه ته دَ طرف دَ رور دَ هغه نه څه معافے، پس لازم دی کرځیدل په هغه پسے په ښه طریقه اولازم ده په هغه باندے ادائیږی هغه ته په نیکئ سره دا اسانتیا ده ستاسو دَ رب دَ طرف نه او رحمت دے پس چاچه زیاتے اوکړو پس دَ دے نه پس هغه لره عذاب دے در دناك (۱۷۸)اوستاسودپاره په قصاص شرعی (جاری کولو) کښ ژوند دے اے صفا عقل والو دَ دے دپاره چه تاسو بچ شئے (۱۷۹) لازم کړے شوے دے په تاسوباندے کله چه نزدے شی یوستاسوته مرګ که چرے پریږدی مال وصیت کول مور اوپلارته اوخپلوانوته په نیکے طریقے سره لازم دے په

کښ یا په قرضونو کښ۔ او دا مال ورکول هم په سبب دَاحتیاج دَ دغه کسانو اوپه وخت دَ طاقت مالی دَ ورکوؤنکی کښ واجب دے ﴿بِعَهْدِهِمْ﴾ مراد دَ دے هغه ټول عهود دی چه اللّٰه تعالیٰ او رسول ﷺ دَ طرف نه دی یا په کورنئے کښ دی ﴿الْبَاْسَآءِ﴾ هغه تکلیفونه چه دَمال سره تعلق لری ﴿وَالضَّرَّآءِ﴾ هغه تکلیفونه چه دَ بدن سره تعلق لری۔

[۱۷۸] په دے ایت کښ اول حکم دَسیاست دے قصاص، یعنی قصاص جاری کول او قصاص ته ځان (قاتل) سپارل فرض دی بیا دَ وارث خوښه ده۔ په اوله معنیٰ ﴿يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ﴾ خطاب دے حکومت والوته اوپه دویمه معنیٰ خطاب دے قاتلانوته لیکن دواړه حالتونو کښ خلافت قائم کولوته ضرورت دے دَ دے وجے نه خطاب اوشوعامو مؤمنانوته ﴿اَلْحُرُّ بِالْحُرِّ﴾ کښ اشاره ده چه قصاص په طاقت والواوپه کمزورو ټولو کښ جاری کول لازم دی او درے قسمونه ذکرشول۔ نارینه او زنانه او آزاد او مریان ﴿فَمَنْ عُفِيَ لَهٗ مِنْ اَخِيْهِ شَيْءٌ﴾ اخیه نه مراد مقتول دے نواشاره ده چه په دے قتل سره دَ ایمان دَ اخوت نه نه اوځی۔ شَيْءٌ، په دے کښ اشاره ده چه په ورثه دَمقتول کښ یوکس معافے اوکړی نوپوره معافے اوشو اودلته دَ دیت ذکرته حاجت نیشته ځکه چه وینه دَ مسلمان دَ قصاص یا دیت نه خالی کیدلے نشی۔

[۱۷۹] په دے آیت کښ دَقانون قصاص دَجاری کولوفائدے ذکرشوی دی ﴿حَيٰوةٌ﴾ تنوین دپاره دَ تعظیم یا تنویع دے یعنی لوئے ژوند اوژوند دَ امن دے ﴿يٰۤاُولِي الْاَلْبَابِ﴾ الباب جمع دَ لب ده هغه عقل دے چه دَ وهمونو دَ مقابلے نه خالی وی۔

الْمُتَّقِيْنَ ﴿١٨٠﴾ فَمَنْۢ بَدَّلَهٗ بَعْدَ مَا سَمِعَهٗ فَاِنَّمَاۤ اِثْمُهٗ عَلَى الَّذِيْنَ يُبَدِّلُوْنَهٗ ؕ اِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿١٨١﴾
فَمَنْ خَافَ مِنْ مُّوْصٍ جَنَفًا اَوْ اِثْمًا فَاَصْلَحَ بَيْنَهُمْ فَلَاۤ اِثْمَ عَلَيْهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١٨٢﴾ ع
يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿١٨٣﴾ اَيَّامًا
مَّعْدُوْدٰتٍ ؕ فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَّرِيْضًا اَوْ عَلٰى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ اَيَّامٍ اُخَرَ ؕ وَعَلَى الَّذِيْنَ يُطِيْقُوْنَهٗ
فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِيْنٍ ؕ فَمَنْ تَطَوَّعَ خَيْرًا فَهُوَ خَيْرٌ لَّهٗ ؕ وَاَنْ تَصُوْمُوْا خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ

په پرهیزګارانو باندے (۱۸۰) پس چه بدل کړو دا وصیت پس دَ او ریدلونه پس یقیناً ګناه (دَ دے بدلولو) په هغه کسانو دے چه بدلوی دا وصیت یقیناً الله تعالی هر څه اوری په هرڅه پوهه دے(۱۸۱) پس څوك چه ویره کوی دَ وصیت کؤونکی نه دَ کړے دلو په خطائے یا دَ ګناه کولوپه قصد پس جوړخ اوکړی دَ دوی په مینځ کښ پس نیشته هیڅ ګناه په هغه باندے، یقیناً الله تعالی بخنه کوونکے او رحم کؤونکے دے (۱۸۲) اے ایمان والو فرض کړے شوی دی په تاسوباندے روژے نیول لکه چه فرض کړے شوی دی په هغه کسانو چه ستاسو نه مخکښے ؤو دے دپاره چه پرهیزګارشئے (۱۸۳) روژے (اونیسئے) څوورځے شمارلے شوے، پس څوك چه وی ستاسونه مریض(ناجوړه) یاوی په سفرباندے پس(په دهٔ باندے) شمارل دی دَ روزو نورونه، او(لازم ده) په هغه کسانوباندے چه په ډیرتکلیف سره نیولے شی روژه بدله خوراك دَیومسکین، پس چاچه په خوشحالئے نیکی اوکړه پس داغوره ده، دهٔ لره او روژے نیول ډیرفائده منددی تاسولره که تاسو

[۱۸۰]په دے آیت کښ دویم حکم دے مطلب دا دے چه کله یوسړے مړکیږی اومال ئے پاتے وی نوخپلووارثانوته دِ وصیت اوکړی چه ځمامال په شرعی طریقے سره تقسیم کړئ اوپه سنت طریقه فدیه اوصدقه اوکړئے اومور ښځے وغیره ته په میراث کښ حصه ورکړئے اودیته معروف وائی۔ اوکه مال ئے نه وی نودَ دین په باره کښ دِ وصیت اوکړی چه په صحیح دین باندے کلك شئے آیت په دے معنیٰ سره منسوخ نه دے اوپه دے توجیه سره الوصیة په معنیٰ دَ ایصاء اونصیحت کولو دے اوبالمعروف نه مراد شرعی طریقه ده دارنګ که والدین اواقربین غیر ورثه وی یعنی کافران وی مثلاً نوهم آیت منسوخ نه دے اوهرکله چه وصیت په معنیٰ دَمال څه حصه ورکول روستودَ مرګ نه په طریقه دَ وصیت کولونو دا په آیت دَ میراث سره اوپه حدیث لاوصیة لوارث سره منسوخ دے۔

[۱۸۱] په دے آیت کښ زورنه ده بدلوؤنکو دَوصیت ته ﴿سَمِعَهٗ﴾ نه مراد علم حاصلیدل دی۔

[۱۸۲] په دے آیت کښ ترغیب دے اصلاح کولودَغلط وصیت ته ﴿مُوْصٍ جَنَفاً اَوْاِثْماً﴾ ګناه ته میلان په خطائے سره اوائما ګناه کول په قصد سره ﴿فَاَصْلَحَ بَيْنَهُمْ﴾ یعنی مصالحت اوکړی په مینځ دَ میت او وصیت والوکښ په حق طریقے سره نودے ته تبدیل نه وئیلے کیږی نوداګناه نه دے۔

[۱۸۳] پدے آیت کښ دریم حکم دے فرضیت دَ روژے اوپدے کښ پنځه احکام دی په پنځه آیاتونوکښ۔اول حکم دَ روژے فرض کیدل دَ مخکنوپشان اودَهغے فائده تقویٰ ده ﴿الصِّيَامُ﴾ مصدر دے روژے نیول۔ بل قول دا دے چه صیام جمع دَ صوم اومراد ترینه درے روځے روژے نیول دَایام بیض(دیارلسم

تَعْلَمُوْنَ ﴿١٨٤﴾ شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِيْٓ اُنْزِلَ فِيْهِ الْقُرْاٰنُ هُدًى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنٰتٍ مِّنَ الْهُدٰى وَ
الْفُرْقَانِ ۚ فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ ؕ وَمَنْ كَانَ مَرِيْضًا اَوْ عَلٰى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ اَيَّامٍ
اُخَرَ ؕ يُرِيْدُ اللّٰهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيْدُ بِكُمُ الْعُسْرَ ۚ وَلِتُكْمِلُوا الْعِدَّةَ وَلِتُكَبِّرُوا اللّٰهَ عَلٰى مَا هَدٰىكُمْ وَ
لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿١٨٥﴾ وَاِذَا سَاَلَكَ عِبَادِيْ عَنِّيْ فَاِنِّيْ قَرِيْبٌ ؕ اُجِيْبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ اِذَا دَعَانِ ۙ

پوهیږئ (١٨٤) میاشت دَ رمضان هغه ده چه نازلیدل شروع شوپه هغے کښ دَ قرآن چه لار خودونکے دے ټولوخلقوته اوښکاره احکام دی دَ هدایت (مخکښی) اودَ جدائی کڅوونکی دَ حق اوباطل۔ پس څوك چه حاضر شوستاسونه دے میاشت ته پس خامخا روژه دِ اونیسی اوهغه څوك چه وی ناجوړه یا وی په سفرباندے پس په دۀ باندے شمارل دی دَ ورځو نورونه، غواړی اللّٰه تعالیٰ په تاسو اسانتیا او نه غواړی په تاسو باندے تنګسیا اودپاره دَ دے چه پوره کړئ شماره اودپاره دَ دے چه لوئی اوائے دَ اللّٰه تعالیٰ په هغه طریقه سره چه خودلے ده تاسوته او دپاره دَ دے چه شکر اوکړئے دَ اللّٰه تعالیٰ (١٨٥) اوکله چه تپوس اوکړی ستانه بندګان ځما په باره ځما کښ (پس ورته اُوایه ځما دَ طرف نه) چه یقیناً ځه نیږدے یم، قبلوم دُعا دَ دُعا کڅوونکی کله چه دُعا غواړی ځمانه

خوارلسم اوپنځلسم) دی او دا مخکے فرض وے بیا منسوخ شوے په صوم رمضان سره۔

[١٨٤] پدے کښ دویم حکم دے په عذرسره اوحکم دَ فدیے ﴿اَيَّاماً مَّعْدُوْدَاتٍ﴾ په دے کښ ترغیب دے روژے نیولوته چه دالږے روڼے دی ځکه دَ یومیاشت روژے په نسبت دَټول کال سره لږے دی ﴿يُطِيْقُوْنَهٗ﴾ دَ دے آیت یومطلب دا دے چه سرهٔ دَ قدرت دَ روژے، روژه اونه نیسی او فدیه ورکوی داحکم منسوخ شوے دے په روستوآیت سره اوبل مراد دَ آیت دا دے چه ډیر بوډاګان او همیشه بیماران چه دَ روژے طاقت نه لری هغوی باندے فدیه لازم ده نو بیا دَیطیقونهٗ درے تفسیره دی (١) لاپکښی پټ دے(٢) دَ سلب معنیٰ ده یعنی طاقت دَ روژے نه لری (٣) طاقت هغه وخت کښی استعمالیږی چه برداشت دَروژے نشی کولے مګرپه ډیرسختئ سره اوآیت کښی نورے معنے هم شته ﴿وَمَنْ تَطَوَّعَ خَيْراً﴾ یعنی په روژه نیولویا فدیه ورکولوکښی اخلاص اوخوشحالی پکارده ﴿وَاَنْ تَصُوْمُوْا خَيْرٌ لَّكُمْ﴾ په اوله توجیه سره روژه نیول دَ فدیے نه غوره دی اوپه دویمه توجیه سره روژه نیولو کښی (فی نفسه) ډیرے فائدے دی۔

[١٨٥] په دے کښ دریم حکم دے، میاشت دَ روژے اوحکمتونه دَ قضا۔ څلور خبرے دی یو ادا معاف کیدل په عذر سره، دویم روستو کول دَ روژے دریم بیا قضا دَ هغے برابرځلورم دا حکم دَ اللّٰه تعالیٰ منل نودَ دے دپاره ئے څلورحکمتونه په ترتیب سره بیان کړل۔ دَ اول دپاره ﴿يُرِيْدُ اللّٰهُ بِكُمُ الْيُسْرَ﴾ اودَ دویم دَپاره ﴿وَلَا يُرِيْدُ بِكُمُ الْعُسْرَ﴾ او دَ دریم دَپاره ﴿لِتُكْمِلُوا الْعِدَّةَ﴾ اودَ څلورم دپاره ﴿وَلِتُكَبِّرُوا اللّٰهَ﴾ ﴿الَّذِيْٓ اُنْزِلَ فِيْهِ الْقُرْاٰنُ﴾ نزول شروع شویدے په هغے کښی په لیلة القدرکښی، بل قول دا دے چه ټول قرآن دَ لوح محفوظ نه آسمان دنیا ته په یوشپه کښی نازل شویدے ﴿وَبَيِّنَاتٍ مِّنَ الْهُدٰى﴾ من په معنیٰ دَلام دے یا مِن پخپله معنیٰ دے او الهدیٰ نه مراد زوړ هدایت دے چه په مخکنو کتابونوکښی موجود وؤ او ﴿هُدًى لِّلنَّاسِ﴾ هدایت دَقرآن مراد دے۔

فَلْيَسْتَجِيْبُوْا لِيْ وَلْيُؤْمِنُوْا بِيْ لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُوْنَ ﴿١٨٦﴾ اُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ اِلٰى نِسَآئِكُمْ ؕ هُنَّ
لِبَاسٌ لَّكُمْ وَاَنْتُمْ لِبَاسٌ لَّهُنَّ ؕ عَلِمَ اللّٰهُ اَنَّكُمْ كُنْتُمْ تَخْتَانُوْنَ اَنْفُسَكُمْ فَتَابَ عَلَيْكُمْ وَعَفَا عَنْكُمْ ۚ
فَالْـٰٔنَ بَاشِرُوْهُنَّ وَابْتَغُوْا مَا كَتَبَ اللّٰهُ لَكُمْ ۪ وَكُلُوْا وَاشْرَبُوْا حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الْاَبْيَضُ مِنَ
الْخَيْطِ الْاَسْوَدِ مِنَ الْفَجْرِ ۪ ثُمَّ اَتِمُّوا الصِّيَامَ اِلَى الَّيْلِ ۚ وَلَا تُبَاشِرُوْهُنَّ وَاَنْتُمْ عٰكِفُوْنَ ۙ فِي
الْمَسٰجِدِ ؕ تِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ فَلَا تَقْرَبُوْهَا ؕ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ اٰيٰتِهٖ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ ﴿١٨٧﴾ وَلَا

پس اودِ منی حکمونه ځما، اویقین دِکوی (په دُعا قبلولو) ځما دَ دے دَ پاره چه ورسی مقصد خپل ته (۱۸۶) حلال کړے شوی ستاسودپاره په شپه دَ روژے نیولو کښ یوځائے کیدل دَ بیبیانوخپلوسره دوی جامے دی تاسو لره اوتاسوجامے ئے دَ هغوی دپاره، پوهه دے اللّٰه تعالیٰ چه یقیناً تاسو په نقصان کښ اچولے وے ځانونه خپل (که داحکم ئے باقی پریخودے وے) پس آسانتیا راوسته پتاسواوفراخی راوسته ستاسونه، پس اوس نزدیکت کوئے دَ دوی سره اوطلب کړئے هغه شے چه مقررکړے دے اللّٰه تعالیٰ تاسوله او خورئ اوځکئے ترهغه پورے چه ښکاره شی تاسوته تارسپین دَ تار تورنه دَ صبانه بیا پوره کړئے روژے ترشپے پورے اونزدیکت مه کوئے دَ دوی سره اوحال دا چه تاسواعتکاف کڅونکی یئ په جماعتونو کښ، دا پولے دَ اللّٰه تعالیٰ دی پس مه نزدے کیږئ دیته دغسے بیانوی اللّٰه تعالیٰ احکام خپل خلقوته دے دپاره چه دوی متقیان شی (۱۸۷) اومه

[۱۸۶] په دے آیت کښ ځلورم حکم دے چه روژه سبب دَ نزدیکت دَ اللّٰه تعالیٰ دے او دَ نزدیکت په وخت کښ دُعا ښه قبلیږی۔

فائده ۱: دا آیت دلیل دے چه بغیر دَ شرعی ځایونونه نورو اوقاتو کښ ذکر په جهر سره کول منع دی۔

فائده ۲: پدے آیت کښ دَ دُعا دَ قبلیدلودرے شرطونه ذکردی (۱) ﴿اِذَا دَعَانِ﴾ چه دَ اللّٰه تعالیٰ نه غواړی شرك ورسره نه کوی (۲) دَ اللّٰه تعالیٰ حکمونه منل اوعمل کول (۳) یقین کول چه اللّٰه تعالیٰ قبلوونکے دے۔ ﴿فَلْيَسْتَجِيْبُوْا﴾استجابت پوره حکم منلوته وئیلے شی او اجابت صرف جواب کول دی ﴿وَلْيُؤْمِنُوْا بِيْ﴾ دَدیایمان نه مرادیقین کول چه اللّٰه تعالیٰ دُعا قبلوی دَ دے وجے نه دائے دَ استجابت نه روستوذکرکړے دے۔ ﴿اُجِيْبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ﴾ دَ اجابت دَپاره ځلورطریقے دی اول حاجت پوره ورکول۔دویم دَ بل حاجت پوره کول۔ دریم مصیبت لرے کول، ځلورم ثواب ورکول۔

[۱۸۷] په دے آیت کښ پنځم حکم دے دَ روژے دَ شپے او دَورځے حکم اومسئله دَاعتکاف ده ﴿اُحِلَّ لَكُمْ﴾ دا حکم دَ شپے دے ﴿الرَّفَثُ﴾ هرقول اوعمل چه دَ زنانه سره کیږی دلته مراد زنانه سره یوځائے کیدل دی ﴿لِبَاسٌ﴾ لکه جامه چه پرده ده او زینت دے اوعزت دے اوبدن سره لازم ده دارنګ ښځه خاوند دَ یوبل دپاره دی ﴿كُنْتُمْ تَخْتَانُوْنَ﴾ یعنی بعضِ صحابه کرام خطا شول چه روستو دَ خوب کولو خپلے زنانه ته نیزدے شول او دا منع وؤدیته خیانت وئیلے شی لیکن اللّٰه تعالیٰ معاف کړل یا مراد داچه که دغه حکم ئے ستاسو دپاره پاتے کړے وے نوتاسوبه ځان په خیانت کښ اچولے وے ﴿فَتَابَ﴾ په اوله معنیٰ مراد توبه

تَاْكُلُوْٓا اَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ وَتُدْلُوْا بِهَآ اِلَى الْحُكَّامِ لِتَاْكُلُوْا فَرِيْقًا مِّنْ اَمْوَالِ النَّاسِ بِالْاِثْمِ وَاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۱۸۸﴾ يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الْاَهِلَّةِ ۭ قُلْ هِىَ مَوَاقِيْتُ لِلنَّاسِ وَالْحَجِّ ۭ وَلَيْسَ الْبِرُّ بِاَنْ تَاْتُوا الْبُيُوْتَ مِنْ ظُهُوْرِهَا وَلٰكِنَّ الْبِرَّ مَنِ اتَّقٰى ۚ وَاْتُوا الْبُيُوْتَ مِنْ اَبْوَابِهَا ۠ وَاتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿۱۸۹﴾

خورئ مالونه دَ یوبل په کورنئے کښ په ناروا طریقے سره، اومه ورکوئ دا مالونه حاکمانوته (په رشوت سره) دپاره دَ دے چه اوخورئ یوه ټکړه دَ مالونودَ خلقو په ګناه سره توتاسو پوهیږئ (۱۸۸) تپوس کوی دوی متاته په باره دَ میاشتو کښ، اُوایه: دا دَ وخت مقررکولودی دپاره دَ خلقو اودپاره دَ حج۔ اونه ده نیکی چه راځئ تاسو کورونوته دَ شاګانودَ هغونه، اولیکن نیکی (نیکی) دَ هغه چاده چه ویره کوی دَ اللّٰه تعالیٰ نه، او راځئے کورونوته دَ دروازو دَ هغے نه او اوویریږئ دَ اللّٰه تعالیٰ نه (په حکم منلو سره) دے دپاره چه بچ شئے (۱۸۹)

قبلول دی اوپه دویمه معنیٰ تخفیف راوستل دی اودَعفونه مراد وسعت دَحکم دے﴿مَا كَتَبَ اللّٰهُ لَكُمْ﴾ هغه چه مقررکړی وی اللّٰه تعالیٰ۔یعنی نیت دَاولادکوئ۔اوبله معنیٰ دا ده هغه چه اللّٰه تعالیٰ حلال کړی دی تاسولره یعنی په نزدیکت کښ هغه طریقه اوادب کوئ کوم چه شرع کښ جائزکړے شوے وی۔ ﴿الْخَيْطُ الْاَبْيَضُ﴾ مراد دَ دے فجرصادق دے چه هغه پشان دَسپین تارپه مشرق طرف کښ دَشپے دَتورتاردَپاسه ښکاره کیږی اویَتَبَيَّنَ کښ اشاره ده فجرصادق ته اوهرچه فجرکاذب دے نوپه هغے کښ نبین نه وی ﴿فِي الْمَسَاجِدِ﴾ اشاره ده چه اعتکاف په ټولومساجدوکښ جائزدے هاں په درے مساجدو کښ (مسجد حرام، مسجد نبوی او مسجد اقصیٰ) کښ افضل دے اودَ زنانه اعتکاف هم په مسجدکښ ضروری دے لکه چه سنت سره هم ثابت دی۔

[۱۸۸] په دے آیت کښ دَ سیاست څلورم حکم دے چه مالونه په حرامو طریقو سره مه خورئ، غصب، سود، غلا، رشوت، حیلے، رسمونه، بدعات داټول باطل دی ﴿وَتُدْلُوْا بِهَآ اِلَى الْحُكَّامِ﴾ دَ دے په اول کښ لا،مراد دے، بها ضمیرمالونوته راجع دے یعنی مه رسوئے مالونه خپل حاکمانوته په طریقه دَرشوت۔ ﴿لِتَاْكُلُوْا﴾ یعنی رشوت دے ته وئیلے شی چه پردے مال یا حق په هغے سره حاصلول مقصود وی هاں که یو انسان دَ خپل مال یا حق حاصلولودَپاره حاکم ته مال ورکوی نودَ ورکوؤنکی دَطرف نه رشوت نه دے اواغستونکی دَپاره حرام دے۔

[۱۸۹] په روژه کښ دَ میاشت دَ حساب اعتباردے ځکه په دے ان پر خلق هم پوهیږی۔ دَ نمر دَ حساب اعتبار نیشته او دارنګ په حج کښ هم ۔ دَ دے وجے نه دَ میاشتو حساب کول فرض کفائی دی۔ صحیح دا ده چه داټوس صحابو کړے ووچه دَ دے حکمت څه دے؟ نوجواب اوشوپه بیان دَحکمت سره ﴿وَالْحَجِّ﴾ دَ حج خاص ذکرئے ځکه اوکړوچه عرب جاهلیت والوپه حج کښ دَ نسی رسم جوړ کړے وؤ او وخت دَ هغے ئے بدلوؤ لکه سورة توبه کښ ذکر دی ﴿وَلَيْسَ الْبِرُّ﴾ دا په حج کښ دَجاهلانویورسم دے۔ چه دَحج نه په واپسئے کښ دَکوریا خیمے دَشانه به داخلیدل اودا به ئے ثواب ګڼړو۔

فائده: دا دلیل دے چه کوم عمل په شرع کښ ثابت نه وی نو هغه عمل ته ثواب وئیل بدعت دے دامے

وَ قَاتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ الَّذِيْنَ يُقَاتِلُوْنَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوْا ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِيْنَ ﴿۱۹۰﴾ وَاقْتُلُوْهُمْ
حَيْثُ ثَقِفْتُمُوْهُمْ وَ اَخْرِجُوْهُمْ مِّنْ حَيْثُ اَخْرَجُوْكُمْ وَ الْفِتْنَةُ اَشَدُّ مِنَ الْقَتْلِ ۚ وَلَا تُقٰتِلُوْهُمْ عِنْدَ
الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ حَتّٰى يُقٰتِلُوْكُمْ فِيْهِ ۚ فَاِنْ قٰتَلُوْكُمْ فَاقْتُلُوْهُمْ ؕ كَذٰلِكَ جَزَآءُ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۱۹۱﴾ فَاِنِ انْتَهَوْا
فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۹۲﴾ وَقٰتِلُوْهُمْ حَتّٰى لَا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ وَّ يَكُوْنَ الدِّيْنُ لِلّٰهِ ؕ فَاِنِ انْتَهَوْا فَلَا
عُدْوَانَ اِلَّا عَلَى الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۹۳﴾ اَلشَّهْرُ الْحَرَامُ بِالشَّهْرِ الْحَرَامِ وَالْحُرُمٰتُ قِصَاصٌ ؕ فَمَنِ اعْتَدٰى عَلَيْكُمْ

او جنګ کوئے په لارد اللّٰه تعالیٰ کښ د هغه چا سره چه جنګ کوی تاسو سره اومه تیریږئے د حدنه، یقیناً اللّٰه تعالیٰ مینه نه کوی د حدنه تیریدونکو سره (۱۹۰) او وژنئے دوی هرځائے چه اومومئے دوی۔ او اوباسئے دوی د هغه ځائے نه چه ویستلی ئے تاسو اوشرك ډیرسخت ګناه دے د قتل نه، اوجنګ مه کوئے د دوی سره د مسجد حرام په خواکښ ترهغے چه جنګ شروع کړی تاسو سره په هغے کښ،پس که چرے جنګ شروع کړو دوی تاسو سره پس وژنئے دوی دغسے سزا د کافرانوده (۱۹۱) پس که منع شول دوی د (شرك نه) پس یقیناً اللّٰه تعالیٰ بخونکے رحم والادے (۱۹۲) اوجنګ کوئے د دوی سره ترهغے چه پاتے نشی زور د کافرانو، اوشی زورد دین د اللّٰه تعالیٰ۔پس که دوی منع شول (د جنګ نه) پس زیاتے کول نیشته مګرپه ظالمانوباندے (۱۹۳) (بے عزتی) د میاشت د عزت په بدل (د بے عزتئ) د میاشت د عزت کښ ده اونور عزتونه بدلے والادی، پس چاچه زیاتے اوکړو په تاسوباندے

قرطبی وئیلی دی۔

[۱۹۰] په دے آیت کښ اعلان جنګ اوفرضیت د قتال دے ﴿الَّذِيْنَ يُقَاتِلُوْنَكُمْ﴾ مراد د دے نه نوجوانان دی چه د قتال کولو قدرت لری یا مراد د دے نه محاربین دی چه ذمیان نه دی ﴿وَلَا تَعْتَدُوْا﴾ معنیٰ دا ده چه بوډاګان اوزنانه اوواړه بچي مه وژنئے او په جهاد کښ د آدابو شرعیو خلاف مه کوئ ﴿اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ﴾ محبت کول یا نه کول د اللّٰه تعالیٰ صفت دے بغیر د تشبیه اوتمثیل نه د خلقو سره او بغیر د تاویل د ثواب ورکولو اوعذاب ورکولونه۔

[۱۹۱] په دے کښ نورآداب د قتال ذکرکوی اومقصددقتال ذکرکوی چه قتلول اودوطن نه ویستل دی﴿فِتْنَةٌ﴾ یومعنیٰ شرك اوکفرده یعنی شرك د قتل د هغه نه لوئے ګناه دے بله معنیٰ مؤمن په زور سره اړول د ایمان نه داسخته ده په مؤمن باندے د هغه د وژلونه۔اوپدے ایت کښ حکم د حرم مکه ذکرشوے دے چه په هغے کښ شروع کول د جنګ منع دی۔

[۱۹۲] په دے کښ ترغیب دے توبے کولوته۔ یعنی په توبے سره ګناه معاف شونو قتال هم ختم شو۔

[۱۹۳] پدے ایت کښ ئے د جنګ فائده بیان کړے ده په ﴿حَتّٰى لَا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ﴾ حتی په معنیٰ د کے (د پاره) او فتنة نه معنیٰ اړول د مؤمن دی د ایمان نه په زوره سره ﴿وَيَكُوْنَ الدِّيْنُ﴾ مراد د دے نه غلبه د دین اسلام ده په نورو دینونو باندے او په سورة انفال (۳۹) کښ حتی د پاره د غائے دے اوفتنة په معنیٰ د شرك سره ده۔

فَاعْتَدُوْا عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدٰى عَلَيْكُمْ ۠ وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ مَعَ الْمُتَّقِيْنَ ﴿١٩٤﴾
وَاَنْفِقُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَلَا تُلْقُوْا بِاَيْدِيْكُمْ اِلَى التَّهْلُكَةِ ۛ وَاَحْسِنُوْا ۛ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿١٩٥﴾
وَاَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلّٰهِ ۭ فَاِنْ اُحْصِرْتُمْ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ ۚ وَلَا تَحْلِقُوْا رُءُوْسَكُمْ حَتّٰى
يَبْلُغَ الْهَدْيُ مَحِلَّهٗ ۭ فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَّرِيْضًا اَوْ بِهٖٓ اَذًى مِّنْ رَّاْسِهٖ فَفِدْيَةٌ مِّنْ صِيَامٍ اَوْ صَدَقَةٍ
اَوْ نُسُكٍ ۚ فَاِذَآ اَمِنْتُمْ ۠ فَمَنْ تَمَتَّعَ بِالْعُمْرَةِ اِلَى الْحَجِّ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ ۚ فَمَنْ لَّمْ
يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلٰثَةِ اَيَّامٍ فِي الْحَجِّ وَسَبْعَةٍ اِذَا رَجَعْتُمْ ۭ تِلْكَ عَشَرَةٌ كَامِلَةٌ ۭ ذٰلِكَ لِمَنْ لَّمْ يَكُنْ

پس زیاتے او کړئ په هغه باندے پشان دَ هغے چه زیاتے کړے دے په تاسو باندے او اویریږئ دَ اللّٰه تعالیٰ نه اوپوهه شی یقیناً اللّٰه تعالیٰ خاص ملګرے دَ متقیانودے (۱۹٤) اوخرچ کوئے په لارد اللّٰه تعالیٰ کښ اونه غورځوے ځانونه په خپلولاسونوهلاکت ته اوځائسته عمل کوئے یقیناً اللّٰه تعالیٰ مینه کوی دَ ځائسته عمل کؤونکوسره (۱۹۵) اوپوره کړئے حج اوعمره خاص اللّٰه تعالیٰ لره، پس که منع شوئے تاسو (دَ پوره کولونه) پس هغه چه آسان وی دَ قربانئ نه (لازم ده) اومه خرئیے سرونه خپل ترهغے چه اورسی قربانی ځائے دَ حلالے خپل ته، پس څوك چه وی ستاسونه ناجوړه یا په هغه باندے تکلیف وی دَ سرنه پس (په دهٔ باندے) بدله ده دَ روژونه (درے) یاصدقه (دَ شپږ مسکینانو) یاقربانی ده۔ پس کله چه په امن شئے تاسوپس چاچه فائده واغسته په عمره کولودَ حج سره، پس هغه چه آسان وی دَ قربانئ نه (لازم ده) پس چاچه اونه مونده (قربانی) پس روژے دی دَ دریو ورځو، په ورځودَ حج کښ او اووه ورځے کله چه واپس شئے دالس روځے پوره دی (په بدله دَ هدی کښ) دا حکم هغه چالره دے چه نوی

[۱۹٤] په دے کښ هم آداب دَ قتال ذکرکوی شهرحرام ځلورمیاشتے دی، ذوالقعده ذوالحجه، محرم، رجب نوپه دے کښ شروع دَ قتال منع ده ﴿وَالْحُرُمٰتُ﴾ مطلب دا دے چه چا دَ بل بے حرمتی اوکړه بدنی یا مالی وغیره نو دَ هغے بدله په شرع کښ شته ﴿فَمَنِ اعْتَدٰى عَلَيْكُمْ﴾ مثلاً په شهرحرام کښ دُشمن قتال تاسوسره شروع کړی دا یواعتداء ده ﴿فَاعْتَدُوْا﴾ مراد دَ دے نه دَ هغے بدله اغستل دی بغیر دَ زیادت نه لیکن دلته ئے اعتداء مشاکلةً اُوئیل ﴿مَعَ الْمُتَّقِيْنَ﴾ دا معیت خاصه دے په معنیٰ دَ نصرت اوامداد کولوسره۔

[۱۹۵] دا هم دَ لوازماتودَ قتال نه دے ځکه چه بغیردَ انفاق نه قتال نشی کیدلے ﴿وَلَا تُلْقُوْا بِاَيْدِيْكُمْ﴾ ځان هلاکت ته مه غورځوئے په پریخودلودَجهاد اودَخرچ فی سبیل اللّٰه سره ځکه چه دا دواړه پریخودلے شی نو دشمنان به په مسلمانانو غالب شی نو مسلمانان به هلاك کړی ﴿اَحْسِنُوْا﴾ دَتوحید په عقیده اوپه طریقهٔ دَ سنت عمل کولوته احسان دَ عمل وائی۔ یعنی قتال او انفاق په اخلاص اواتباع سنت سره کوئے۔

اَهْلُهٗ حَاضِرِی الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ؕ وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿۱۹۶﴾ اَلْحَجُّ اَشْهُرٌ
مَّعْلُوْمٰتٌ ۚ فَمَنْ فَرَضَ فِيْهِنَّ الْحَجَّ فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوْقَ ۙ وَلَا جِدَالَ فِی الْحَجِّ ؕ وَمَا تَفْعَلُوْا مِنْ
خَيْرٍ يَّعْلَمْهُ اللّٰهُ ؕ وَتَزَوَّدُوْا فَاِنَّ خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوٰی ۫ وَاتَّقُوْنِ يٰٓاُولِی الْاَلْبَابِ ﴿۱۹۷﴾ لَيْسَ عَلَيْكُمْ
جُنَاحٌ اَنْ تَبْتَغُوْا فَضْلًا مِّنْ رَّبِّكُمْ ؕ فَاِذَآ اَفَضْتُمْ مِّنْ عَرَفٰتٍ فَاذْكُرُوا اللّٰهَ عِنْدَ الْمَشْعَرِ الْحَرَامِ ۪

دَ هغه ټبردیره په مسجد حرام کښ اواویږئ دَ اللّٰه تعالیٰ نه اوپوهه شئے چه یقیناً اللّٰه تعالیٰ سخت عذاب ورکؤونکے دے (۱۹۶)وخت دَ احرام دَ حج میاشتے مقرر دی، پس چاچه فرض کړو په ځان باندے پدے میاشتو کښ حج پس دَ ښځوخبرے دِ نه کوی اونه دِ ګناه کوی اونه دِجګړه کوی په حج کښ، اوهغه چه کوئے تاسونیك کارپوهه دے په هغے اللّٰه تعالیٰ، اوتوښه واخلے دَ ځان سره پس یقیناً غوره توښه ځان ساتل (دَ سوال اودَ ګناه نه) او اوویږئ ځمانه اے صفا عقل والو (۱۹۷) نیشته په تاسوباندے ګناه چه طلب کړئے فضل دَ رب خپل نه (په تجارت سره) پس کله چه واپس شئے تاسودَ عرفات نه پس یادوئے اللّٰه تعالیٰ دَ مشعرحرام په خواکښ

[۱۹۶] دَدے آیت نه دویم باب دے تر(۲۱٤) پورے په دے کښ مسئله دَحج اودَ هغے شپږاحکام اوځلور قسمه خلق ذکرکوی او درے ترغیبات جهادته ﴿وَاَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلّٰهِ﴾ یعنی قتال دَ دے دَپاره اوکړئے چه مقام دَ حج دَ کافرانو دَ قبضے نه آزادشی او پوره حج پکښ کولے شئے پوره کول دا دی چه شرك پکښ نه وی۔ بدعات اوفسق وفجور پکښ نه وی۔ او دَ لِلّٰهِ دا معنیٰ ده چه حج یومیله مه ګڼړئ اودَ ریا دَپاره مه کوئے۔ په دے آیت کښ اول حکم دے حکم دَ احصار اوبیا دَاتمام اودَ هدی اوتمتع په کښ ذکر دے۔ احصار دا دے چه دَ حج یا عمرے دپاره احرام اوترلے شی اوبیا دَ دُشمن یا دَ مرض دَوجے نه دَ هغے ارکان نشی پوره کولے ﴿وَلَا تَحْلِقُوْا﴾ یعنی دَبدن نه ویخته اغستل په احرام کښ جائزنه وی نو چه داسے جنایت اوکړی اګرچه دَ عذر دَ وجے نه وی نوهم فدیه لازم ده ﴿مَحِلَّهٗ﴾ مراد دَ دے نه هغه مکان دے چه په هغے کښ دَ هدی ذبح کول واجب دی ﴿اَذًی مِّنْ رَّاْسِهٖ﴾ په سرکښ سپږے شوے وی یا درد وی ﴿تَمَتَّعَ بِالْعُمْرَةِ اِلَی الْحَجِّ﴾ یعنی اول کارونه دَعمرے اوکړئے او ورپسے دَحج کارونه اوکړئے دا تمتع اوقران دواړوته شامل دے﴿ذٰلِكَ لِمَنْ﴾ ذلك اشاره ده تمتع کولوته اوپه نیزد دَ بعضے علماؤ راجع دے وجوب دَ هدی ته ﴿الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ﴾ مراد دَ دے نه ټول حرم مکه دے۔

[۱۹۷] په دے ایت کښ دویم حکم ذکردے وخت دَ احرام دَحج، محرمات په حج کښ اوتوښه ﴿اَلْحَجُّ اَشْهُرٌ مَّعْلُوْمَاتٌ﴾ یعنی وخت دَ احرام دَحج میاشت دَ شوال او ذوالقعده اولس شپے دَ ذوالحجه دی۔ ﴿فَرَضَ﴾ په ځان باندے فرض کړی په احرام ترلوسره ﴿رَفَثَ﴾ دَښځے دَجماع اودَجماع دَ اسبابو خبرے کوی یعنی شهوانی خبرے کول یا آوریدل منع دی نودا دَحج نه علاوه هم منع دی لیکن دَ حج په حالت کښ ډیرګناه دے ﴿وَتَزَوَّدُوْا﴾ دا ادب دَسفردَحج دے دَ دے مقصد دا دے چه حج ذریعه دَسوال مه ګرځوئے۔ ﴿التَّقْوٰی﴾ دومره توخه چه انسان دَ سوال نه بچ ساتی یا نفس تقویٰ اُخروی توخه اوګرځوئے۔

وَاذْكُرُوْهُ كَمَا هَدٰىكُمْ ۚ وَاِنْ كُنْتُمْ مِّنْ قَبْلِهٖ لَمِنَ الضَّآلِّيْنَ ﴿١٩٨﴾ ثُمَّ اَفِيْضُوْا مِنْ حَيْثُ اَفَاضَ
النَّاسُ وَاسْتَغْفِرُوا اللّٰهَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١٩٩﴾ فَاِذَا قَضَيْتُمْ مَّنَاسِكَكُمْ فَاذْكُرُوا اللّٰهَ كَذِكْرِكُمْ
اٰبَآءَكُمْ اَوْ اَشَدَّ ذِكْرًا ۭ فَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّقُوْلُ رَبَّنَآ اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا وَمَا لَهٗ فِي الْاٰخِرَةِ مِنْ
خَلَاقٍ ﴿٢٠٠﴾ وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّقُوْلُ رَبَّنَآ اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّفِي الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ

اویادوئے اللّٰہ تعالیٰ په هغه طریقه چه خودنه کړے ده تاسوته اللّٰہ تعالیٰ۔اواګرچه وئے تاسودَ دینه مخکښے خامخا دَ ناخبرونه (۱۹۸) بیا (واورئے) راواپس شئے دَ هغه ځائے نه چه واپس کیږی نورخلق اوبخنه غواړئے دَ اللّٰہ تعالیٰ نه، یقیناً اللّٰہ تعالیٰ بخنه کؤونکے رحم والادے (۱۹۹) پس کله چه پوره کړئے تاسواحکام دَ حج پس یادوئے اللّٰہ تعالیٰ په شان دَ یادولوستاسو پلاران خپل بلکه زیات یادول (دَ اللّٰہ تعالیٰ) پس بعضے دَ خلقونه هغه دی چه وائی اے ربه ځمونږ راکړے مونږته په دنیاکښ (چه څه راکوے) اونیشته دهٗ لره په آخرت کښ هیڅ برخه (۲۰۰) اوبعضے دَ دوی نه هغه څوك دی چه وائی اے ربه ځمونږ راکړے مونږته په دنیاکښ خوشحالی (په نیك عمل سره) اوپه آخرت کښ خوشحالی (په جنت سره) اوبچ ساتے مونږدَ عذاب

[۱۹۸] په دے کښ دریم حکم دے۔ تجارت جائز دے کله چه توبنه ختم شی۔ دپاره دَ دے چه دَ سوال نه منع شئ رد دے په هغه چاچه په موسم دَحج کښ ئے تجارت حرام ګنړلواوسوال ئے جائزګنړلو۔ او وقوف په مزدلفه دَ مشعر حرام سره دے خو روستودَ افاضے دَعرفات نه۔

فائده: په دے آیت کښ امر دَ ذکردوه کرته دے دَ یوځوفائدو دپاره(۱) ډیرذکرته اشاره ده (۲) اول ذکردَ صبادَمزدلفے او دویم ذکر دَ شپے جمع ده دَ دوؤمونځونو۔ مابنام اوماښښتن(۳) اول ذکرکول اودویم طریقه دَ ذکر۔

[۱۹۹] په دے کښ څلورم حکم دے وقوف په عرفات باندے دا په عمل کښ دَ وقوف دَ مزدلفے نه رواندے دے نو ثم دَپاره دَ تعقیب ذکری دے په دے کښ رد دے په رسم دَ جاهلیت باندے چه قریش قبیله به دَ عرفے په ورځ عرفات ته نه تلل وئیل ئے چه مونږ شریف اوبهادر خلق یو۔ په دے کښ مونږدَ نوروخلقوپشان نه یودَحرم نه بهرنه اوځو اوزمکه دَعرفات دَ حرم نه بهرده۔

[۲۰۰] په دے کښ پنځم حکم دے وقوف په منیٰ کښ اوجمره عقبه په اوؤه ګیټو سره ویشتل او اللّٰہ اکبر وئیل دا په روز دَ نحرکښ۔ په دے ایت کښ رد دے په طریقه دَ جاهلیت چه هغوی به په منیٰ کښ خپل مشران یادول په لویئ سره۔ اودارنګ په تکلیف کښ به ئے خپل مشران او بزرګان یادول۔ نو اللّٰہ تعالیٰ اوفرمائیل چه اللّٰہ تعالیٰ یادوئ اومشران مه یادوئ۔ اوداهم مطلب کیدشی لکه چه څوك خپل پلاریومنی شرکت نه منی دارنګ یواللّٰہ تعالیٰ منځ شریك ورسره مه منئ۔ اودے ایت کښ اول قسم دَ خلقو ذکرشوچه هغه بدبخت دی صرف دُنیا دپاره حج کوی۔ دَ حج په وخت دَ اللّٰہ تعالیٰ نه صرف دُنیا غواړی۔

النَّارِ ﴿٢٠١﴾ أُولٰٓئِكَ لَهُمْ نَصِيْبٌ مِّمَّا كَسَبُوْا ؕ وَاللّٰهُ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ﴿٢٠٢﴾ وَاذْكُرُوا اللّٰهَ فِيْٓ اَيَّامٍ
مَّعْدُوْدٰتٍ ؕ فَمَنْ تَعَجَّلَ فِيْ يَوْمَيْنِ فَلَآ اِثْمَ عَلَيْهِ ۚ وَمَنْ تَاَخَّرَ فَلَآ اِثْمَ عَلَيْهِ ۙ لِمَنِ اتَّقٰى ؕ
وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّكُمْ اِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ ﴿٢٠٣﴾ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُّعْجِبُكَ قَوْلُهٗ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا
وَيُشْهِدُ اللّٰهَ عَلٰى مَا فِيْ قَلْبِهٖ ۙ وَهُوَ اَلَدُّ الْخِصَامِ ﴿٢٠٤﴾ وَاِذَا تَوَلّٰى سَعٰى فِي الْاَرْضِ لِيُفْسِدَ فِيْهَا

دَ اورنه (۲۰۱) دغه کسان دوی لره برخه ده دَ وجے دَ هغه عملونونه چه دوی کړی دی اواللّٰه تعالیٰ زرحساب کؤونکے دے (۲۰۲)اویادکړئے اللّٰه تعالیٰ په ورځو شمارلے شؤوکښ پس چاچه تلوار اوکړو په (پوره کولو) دَ دؤو ورځوکښ پس نیشته ګناه په دهٔ باندے اوچاچه روستوکړو (ویشتل دریمے ورځے ته) پس نیشته ګناه په دهٔ باندے، دا هغه چاله چه ویره کوی دَ اللّٰه تعالیٰ نه، اوپوهه شئے چه یقیناً تاسوخاص هغه ته به جمع کړے شئے (۲۰۳) اوبعضے دَ خلقونه هغه دی چه حیرانه وی تاله وینا دَ هغه په باره دَ ژوند دنیوی کښ، اوګواه کوی اللّٰه تعالیٰ لره په هغه څه چه دَ دهٔ په زړه کښ وی اودے سخت جګړمار دے (۲۰٤) اوکله چه لاړشی ستاسونه کوشش کوی په زمکه کښ دے دپاره چه روانے اوکړی په زمکه کښ

[۲۰۱] په دے کښ دویم قسم خلق ذکرشول نیك بخت دی چه دُنیا او اخرت غواړی ﴿حَسَنَةً﴾ خائسته ژوند دا دے چه دَ آخرت او دَ دین دَپاره خرچ کړے شی او دے ته توفیق دَ نیکئی هم وئیلے شی۔ ﴿وَفِي الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً﴾ دَ دے نه مراد جنت دے۔

[۲۰۲] دا ایت دَ دواړو ډلوسره تعلق لری ﴿وَاللّٰهُ سَرِيْعُ الْحِسَابِ﴾ حدیث سره ثابت ده چه اللّٰه تعالیٰ به دَ ټول مخلوق سره حساب ختم کړی ستاسودَ روزوترنیمے پورے۔

[۲۰۳] دے آیت کښ شپږم حکم دے دَ حج۔ دَ دے روځے (یولسم،دولسم اودیارلسم) په منیٰ کښ ګټے ویشتل اوپه هغے باندے اللّٰه اکبر وئیل اوپدے ایت کښ رد دے په هغه چاچه (دریمے روځے ویشتلو) ته واجب وائی یاورته حرام وائی بلکه هرحکم په خپل ځائے پورے منل پکاردی۔ دَ دے نه معلومه شوه چه یو مستحب کار واجب اوګرځوی یا ئے حرام اوګرځوی نودانا جائزدی په دے وخت کښ دَتعصب اودَ جهل په وجے سره داسے ډیربدعات پیداشویدی ﴿لِمَنِ اتَّقٰى﴾ یعنی دا احکام فائده ورکوی صِرف تقویٰ والا دَپاره چه دا کارونه دَ وجے دَتقویٰ نه کوی نه دَ وجے دَ عادت یا ریا نه۔

[۲۰٤] په دے ایت کښ دریم قسم دَ خلقودے دَحج سره خاص نه دے ځکه ئے دَ هغه مخکنو قسمونونه روستوجدا ذکرکړو ډیربدبخت اودَهغه اووه صفات ئے ذکرکړی دی۔ په دے آیت کښ دَ هغے نه درے صفات ذکر دی ﴿فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا﴾ یعنی دَ دُنیوی معاملاتوپه باره کښ ډیرچالاك دی لکه تجارت یا دُنیوی سیاست ﴿وَيُشْهِدُ﴾ یعنی څه دعویٰ کوی نوپه هغے قَسم کوی په دروغه طریقه لکه وائی قسم باللّٰه چه ځما ستاسره محبت دے اوحال داچه هیڅ محبت ئے نه وی ﴿وَهُوَ اَلَدُّ الْخِصَامِ﴾ دَاللّٰه تعالیٰ او دَهغه دَ رسول او دَ دین اسلام سخت دُشمن دے اوجګړماردے۔

وَيُهْلِكَ الْحَرْثَ وَالنَّسْلَ ۗ وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ الْفَسَادَ ﴿۲۰۵﴾ وَاِذَا قِيْلَ لَهُ اتَّقِ اللّٰهَ اَخَذَتْهُ الْعِزَّةُ بِالْاِثْمِ
فَحَسْبُهٗ جَهَنَّمُ ۗ وَلَبِئْسَ الْمِهَادُ ﴿۲۰۶﴾ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّشْرِيْ نَفْسَهُ ابْتِغَآءَ مَرْضَاتِ اللّٰهِ ۗ وَاللّٰهُ
رَءُوْفٌۢ بِالْعِبَادِ ﴿۲۰۷﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا ادْخُلُوْا فِي السِّلْمِ كَآفَّةً ۖ وَلَا تَتَّبِعُوْا خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ ۗ اِنَّهٗ
لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ﴿۲۰۸﴾ فَاِنْ زَلَلْتُمْ مِّنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْكُمُ الْبَيِّنٰتُ فَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿۲۰۹﴾

اوتباه کوی فصل اونسل او اللّٰه تعالیٰ نه خوخوی فساد (۲۰۵) او کله چه اُویلے شی دهٔ ته اویریږه دَ اللّٰه تعالیٰ نه اونیسی دهٔ لره غیرت په ګناه کولوپس پوره دے دهٔ لره جهنم، او خامخا بد دے ځائے تیارکړے شوے (دا جهنم) (۲۰۶) اوبعضے دَ خلقونه هغه ځوك دی چه خرڅوی ځان خپل دپاره دَ طلب دَ رضا دَ اللّٰه تعالیٰ او اللّٰه تعالیٰ ډیرمهربان دے په بندګانوخپلو(۲۰۷) اے ایمان والو داخل شئے په اسلام کښ پوره اومه ځے په قدمونودَ شیطان پسے، یقیناً شیطان ستاسودُشمن ښکاره دے (۲۰۸) پس که چرے اوخوئیدلے تاسو روستودَ دے نه چه راغلی دی تاسوته ښکاره حکمونه پس پوهه شے چه یقیناً اللّٰه تعالیٰ زور اوردے حکمتونووالا دے (۲۰۹)

[۲۰۵] دے آیت کښ نوردرے قبائح ذکردی اودَ تَوَلّٰی یومعنیٰ چه والی او اختیارمند دَ څه حکم ګرځیدل۔ دویمه معنیٰ چه ستاسودَ مخے اومجلس نه مخ اوګرځوی ﴿لِيُفْسِدَ فِيْهَا﴾ هرقسم فساد ته شامل دے شرك کفرمخالفت دَ قرآن اورسول دَپاره کوشش کول ﴿الْحَرْثَ وَالنَّسْلَ﴾ فصلونه دَ خلقوسیزی غلائے کوی یا دَحرث نه مراد زنانه دی او والنَّسلَ، مراد ترینه بچی دَ عاموحیواناتودی اوقتل دَ بچودَ انسانانو پکښ خاص دے اودَ دے وخت نسل کشی (منصوبه بندئے) ته هم شامل دے۔

[۲۰۶] په دے کښ یوصفت ذکردے اوتخویف اُخروی دے﴿اَخَذَتْهُ الْعِزَّةُ بِالْاِثْمِ﴾ عزت په معنیٰ دَغیرت نفسانی دے اوبا په معنیٰ دَعلی ده یعنی په ګناه کولوغیرت شروع کړی یعنی پوخ شی په ګناه کولوباندے یا باسببیه ده په سبب دَګناه دَ زړه دَ هغه منع کړی دی دوی لره غیرت دَقبلولودَ نصیحت نه ﴿وَلَبِئْسَ الْمِهَادُ﴾ مهاد هغه ځائے ته وئیلے شی چه دَمیلمه دَ آرام دپاره تیارکړے شی نوجهنم دپاره ئے دا لفظ تهکماً وئیلے دے یا دَمهاد نه مراد هغه ناکاره عملونه دی چه دوی ځان دپاره تیارکړی دی۔

[۲۰۷] په دے کښ ځلورم قسم دَ خلقوذکردے هغه ډیرنیك بخت دی چه هغه خپل بدن دَ اللّٰه تعالیٰ دَ رضا دَپاره قربانی کوی او هغه مجاهد فی سبیل اللّٰه دے۔ په طریقه دَ دعوت الی اللّٰه یا قتال فی سبیل اللّٰه سره ﴿يَشْرِيْ﴾ په معنیٰ دَبیع سره دے او مراد ترینه خرچ کول اوقربان کول دی دَځان۔

[۲۰۸] دے آیت کښ ترغیب دے قبول دین اسلام قبول کولوته یعنی حج وغیره قبول عبادات دینیه دَ بدعاتو نه پاك اوساتئے حکم دے چه په ځان کښ پوره اسلام جاری کړئ په عقائدو، عباداتو، معاملاتو، غمونو اوښادو وغیره کښ ځوك چه بعض کارونه دَاسلام کوی اوبعض کارونه دَمشرکانو او کافرانو او بدعتیانوهم کوی نودَ دے آیت نه مخالف دے﴿خُطُوٰتِ﴾ کفریات شرکیات بدعات مراد دی۔

[۲۰۹] دا زورنه ده هغه چاته چه پوره اسلام کښ نه داخلیږی﴿زَلَلْتُمْ﴾ خویدل که قصداً وی او که جهلاً خودلته اوله طریقه مراد ده۔

هَلْ يَنْظُرُوْنَ اِلَّآ اَنْ يَّاْتِيَهُمُ اللّٰهُ فِيْ ظُلَلٍ مِّنَ الْغَمَامِ وَالْمَلٰٓئِكَةُ وَقُضِيَ الْاَمْرُ ۭ وَاِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ الْاُمُوْرُ ۝٢١٠ سَلْ بَنِيْٓ اِسْرَاۗءِيْلَ كَمْ اٰتَيْنٰهُمْ مِّنْ اٰيَةٍۢ بَيِّنَةٍ ۭ وَمَنْ يُّبَدِّلْ نِعْمَةَ اللّٰهِ مِنْۢ بَعْدِ مَا جَاۗءَتْهُ فَاِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ۝٢١١ زُيِّنَ لِلَّذِيْنَ كَفَرُوا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا وَيَسْخَرُوْنَ مِنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۘ وَالَّذِيْنَ اتَّقَوْا فَوْقَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۭ وَاللّٰهُ يَرْزُقُ مَنْ يَّشَاۗءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ۝٢١٢ كَانَ النَّاسُ اُمَّةً وَّاحِدَةً ۟ فَبَعَثَ اللّٰهُ النَّبِيّٖنَ مُبَشِّرِيْنَ وَمُنْذِرِيْنَ ۠ وَاَنْزَلَ مَعَهُمُ الْكِتٰبَ

انتظارنه کوی دوی مګرڈ دے چه راشی دوی ته اللّٰه تعالیٰ په سوروکښ ډ وریځونه اوملائك اوپوره شی کارډ عذاب ډ دوی۔ اوخاص اللّٰه تعالیٰ ته واپس کیدے شی ټول کارونه (۲۱۰) تپوس اوکړه ډ بنی اسرائیلونه چه څومره ورکړی دی مونږ دویته نعمتونه ښکاره (پس دوی بدل کړه) اوچاچه بدل کړو نعمت ډ اللّٰه تعالیٰ(په ناشکرئے) روسته ډ هغے نه چه راغلل دهٔ ته۔ پس یقیناً اللّٰه تعالیٰ سخت عذاب ورکؤونکے دے (۲۱۱) ډولی کړے شوے دے هغه کسانوته چه کفر ئے کړے دے ژوند دنیوی، اوټوقے کوی دوی په ایمان والو پورے، اوهغه کسان چه بچ دی ډ شرك نه پورته به وی ډ دوینه په ورځ ډ قیامت او اللّٰه تعالیٰ رزق ورکوی چاله چه اوغواړی بے حسابه (۲۱۲) ؤوخلق یوډله (په توحید باندے پس مختلف شول) پس را اولیګل اللّٰه تعالیٰ پیغمبران زیرے ورکوونکی (منونکوته) او ویره ورکؤونکی (نه منونکوته) اونازل ئے کړه په دوی باندے کتابونه

[۲۱۰] دا تخویف دُنیوی دے ﴿يَنْظُرُوْنَ﴾ دا په معنیٰ ډانتظار کولودے ﴿يَاْتِيَهُمُ اللّٰهُ﴾ را تلل ډ اللّٰه تعالیٰ ډمتشابهاتونه دی یعنی ظاهری حقیقی معنیٰ ئے واضح ده خوبغیرډ تشبیه اوتمثیل نه اوبغیرډ تاویل اوتحریف نه ﴿وَاِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ الْاُمُوْرُ﴾ یومعنیٰ دا ده چه ټول عملونه ورګرځی به اللّٰه تعالیٰ ته په ورځ ډقیامت دپاره ډ حساب۔ دویمه معنیٰ دا ده چه نن مشرکان ډ بعضے کارونو نسبت خپلو معبودانوته کوی۔ نو په ورځ ډ قیامت به دوی ډ دے کارونو نسبت صرف اللّٰه تعالیٰ ته کوی۔

[۲۱۱] دے آیت کښ نمونه ډ عذاب دُنیوی ده او ډ هغے سبب ذکرکوی ﴿اٰيَةٍ بَيِّنَةٍ﴾ مراد ډ دے نه نعمتونه دی چه ډ دے سورة په اول کښ(ډ بنی اسرائیلو په ذکر) کښ تیرشویدی لیکن هرنعمت معجزه او دلیل دے ډ دے وجے نه ئے دے ته آیت اُویل ﴿وَمَنْ يُّبَدِّلْ﴾ مراد ډ دے نه ډ نعمت ناشکری کول دی۔

[۲۱۲] په دے آیت کښ بیان ډ سبب ډ نعمت بدلولو دے چه هغه تزیین ډ دُنیوی مالونو او ژوند دے۔ او جواب ډ سوال دے چه کافران ولے په مزو کښ دی ﴿زُيِّنَ﴾ مجهول ئے اُویل نوکله نسبت اللّٰه تعالیٰ ته کیږی په اعتبارډ خالقیت سره اوکله شیطان ته په اعتبارډوسوسوسره ﴿وَيَسْخَرُوْنَ﴾ دا ډ وجے ډ تکبرنه دے ﴿فَوْقَهُمْ﴾ یعنی اوچت والے ډ جنت پکار دے خوهغه په تقویٰ سره حاصلیږی ﴿وَاللّٰهُ يَرْزُقُ مَنْ يَّشَاۗءُ﴾ په دے کښ ډیرتوجیهات دی اول داچه من یشاء عام خلق مراد دی او رزق نه مراد رزق دُنیوی دے اوحساب نه مراد ډیردے دویم داچه من یشاء نه مراد مؤمنان دی اوحساب نه مراد ګمان کول دی دریم من یشاء نه مراد مؤمنان دی او رزق ډ جنت مراد دے چه هغه بے حسابه دے۔

بِالْحَقِّ لِيَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ فِيْمَا اخْتَلَفُوْا فِيْهِ ؕ وَمَا اخْتَلَفَ فِيْهِ اِلَّا الَّذِيْنَ اُوْتُوْهُ مِنْۢ بَعْدِ
مَا جَآءَتْهُمُ الْبَيِّنٰتُ بَغْيًۢا بَيْنَهُمْ ۚ فَهَدَى اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لِمَا اخْتَلَفُوْا فِيْهِ مِنَ الْحَقِّ بِاِذْنِهٖ ؕ
وَاللّٰهُ يَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿٢١٣﴾ اَمْ حَسِبْتُمْ اَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَاْتِكُمْ مَّثَلُ
الَّذِيْنَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِكُمْ ؕ مَسَّتْهُمُ الْبَاْسَآءُ وَالضَّرَّآءُ وَزُلْزِلُوْا حَتّٰى يَقُوْلَ الرَّسُوْلُ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا
مَعَهٗ مَتٰى نَصْرُ اللّٰهِ ؕ اَلَآ اِنَّ نَصْرَ اللّٰهِ قَرِيْبٌ ﴿٢١٤﴾ يَسْـَٔلُوْنَكَ مَاذَا يُنْفِقُوْنَ ۬ ؕ قُلْ مَآ اَنْفَقْتُمْ مِّنْ
خَيْرٍ فَلِلْوَالِدَيْنِ وَالْاَقْرَبِيْنَ وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنِ وَابْنِ السَّبِيْلِ ؕ وَمَا تَفْعَلُوْا مِنْ خَيْرٍ فَاِنَّ اللّٰهَ

په حقه سره دپاره دَ دے چه فیصلے اوکړی په مینځ دَ خلقوکښ په هغه څیزکښ چه دوی پکښے اختلاف کړے ؤواو اختلاف نه ؤو کړے په هغے کښ مګر هغه کسانوچه ورکړے شوے ؤو هغویته علم دَکتاب روسته دَ هغے نه چه راغلل دویته بنکاره دلیلونه دَ وجے دَ ضد دَ دوی په مینځ کښ۔ پس اوخودل اللّٰه تعالیٰ هغه کسانوته چه ایمان ئے راوړے ؤو هغه څیز چه اختلاف کړے ؤو (دے نورو خلقو) په هغے کښ چه هغه حق دے په حکم خپل سره اواللّٰه تعالیٰ رسوی چاړه چه اوغواړی نیغے لارے ته (۲۱۳) آیاګمان کوئے تاسوچه داخل به شئے جنت ته اوتراوسه نه دے راغلے تاسوته په شان دَ حالاتودَ هغه کسانوچه تیرشوی دی ستاسونه ورانديے رسیدلی ؤوهغویته سختئے (مالی) اومرضونه اوجړقولے شوی ؤوتردے چه اُویل رسول اوهغه چاچه ایمان ئے راوړے ؤو دَ دهٔ سره کله به راځی مدد دَ اللّٰه تعالیٰ خبرشئے یقیناً مدد دَ اللّٰه تعالیٰ نزدے دے (۲۱٤)تپوس کوی دوی ستانه چه څومره شے(په چا باندے) خرچ کړی، ته اُوایه: څومره چه خرچ کوئے تاسودَ مال نه پس دپاره دَ مور اوپلار دے اوخپلوانو اویتیمانو او مسکینانو اومسافرو اوهغه چه کوئے څه نیك کارپس یقیناً اللّٰه تعالیٰ

[۲۱۳] دے آیت کښ ترغیب دَ جهاد اودعوت الی اللّٰه دے په ذریعه دَ کتاب اللّٰه سره اوتیرشوی آیت کښ چه کوم اختلاف ذکر دے دَ هغے دَ ازالے طریقه په دے ایت کښ ذکرکوی چه دا دَ انبیاء علیهم السلام طریقه ده مطلب دا دے چه دَ آدم علیه السلام نه روسته تریووخته پورے ټول خلق په توحید باندے متفق ؤو۔ دارنګ دَهرنبی په وخت کښ چه هرکله مخالفین به په عذاب سره فنا شول نو باقی به په توحید باندے یو وو۔ بیا دَ نبی دَ وفات نه روستو به په هغوی کښ اختلاف راغے۔ په دے کښ اشاره ده چه کتابونه دَ اللّٰه تعالیٰ دَا ختلافی مسئلو دَ حل دپاره نازل شوی دی۔ اوآیت کښ ذکر دے چه اختلاف چاکړے ؤو اوکله ئے کړے ؤو او ولے ئے کړے ؤو؟ ﴿اُمَّةً وَّاحِدَةً﴾ دَ دے نه روستولفظ دَ اختلفوا پټ مراد دے لکه چه په سورة یونس۱۹ کښ دی ﴿مَعَهُمُ﴾ په دے لفظ کښ اشاره ده چه په هریونبی باندے کتاب مستقل نه وونازل شوے بلکه دایوکتاب به دَنوروانبیاؤسره ؤو ﴿بَغْيًۢا بَيْنَهُمْ﴾ ضد اوعناد دَ دوی دَ انبیاؤ سره نوبینهم اوبین الانبیاء عبارت مراد دے یا دا چه دغه بغی دَ دوی په مینځ کښ ترقی کړے ده۔

[۲۱٤] دا هم ترغیب دے جهادته په تکالیفوتیرولوسره ﴿مَثَلُ﴾ نه مرادتکلیفونه دی۔ تکالیف درے قسمه دی یومالی تکلیفونه هغے ته بأساء وائی۔ دویم بدنی تکالیف دے ته ضراء وائی۔ دریم دَ مخالفینودَ

بِهٖ عَلِيْمٌ ﴿٢١٥﴾ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ وَهُوَ كُرْهٌ لَّكُمْ ۚ وَعَسٰٓى اَنْ تَكْرَهُوْا شَيْـًٔا وَّهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۚ وَعَسٰٓى
اَنْ تُحِبُّوْا شَيْـًٔا وَّهُوَ شَرٌّ لَّكُمْ ۗ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ وَاَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿٢١٦﴾ يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الشَّهْرِ الْحَرَامِ
قِتَالٍ فِيْهِ ۗ قُلْ قِتَالٌ فِيْهِ كَبِيْرٌ ۗ وَصَدٌّ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَكُفْرٌ بِهٖ وَالْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۙ
وَاِخْرَاجُ اَهْلِهٖ مِنْهُ اَكْبَرُ عِنْدَ اللّٰهِ ۚ وَالْفِتْنَةُ اَكْبَرُ مِنَ الْقَتْلِ ۗ وَلَا يَزَالُوْنَ يُقَاتِلُوْنَكُمْ حَتّٰى
يَرُدُّوْكُمْ عَنْ دِيْنِكُمْ اِنِ اسْتَطَاعُوْا ۗ وَمَنْ يَّرْتَدِدْ مِنْكُمْ عَنْ دِيْنِهٖ فَيَمُتْ وَهُوَ كَافِرٌ
فَاُولٰٓئِكَ حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ فِى الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ۚ وَاُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿٢١٧﴾

پہ هغے باندے پوهه دے (۲۱۵) فرض کړے شوے دے په تاسوباندے جنګ کول اوهغه بدبنکاری ستاسو په طبیعت کښ اوکیدے شی چه بد به بنکاری تاسوته یوشے (طبعاً) اوهغه به غوره وی تاسولره، اوکیدے شی چه بنه ګنړئے به تاسویوشے اوهغه به بدوی تاسولره اوالله تعالیٰ پوهیږی اوتاسونه پوهیږئے (۲۱۶) تپوس کوی دوی ستانه په باره دَ میاشت دَ عزت کښ دَ جنګ کولونه په هغے کښ اُوایه چه جنګ کول په دے کښ لوئے ګناه دے اومنع کول دَ لارے دَ الله تعالیٰ نه اوکفرکول په هغه اودَ مسجد حرام نه او ویستل دَ ذمه دارودَ مسجد دَ هغے نه ډیرلوئے ګناه دے په نیزدَ الله تعالیٰ اوشرك لوئے ګناه دے دَ قتل نه۔ اوهمیشه به وی دوی چه جنګ کوی ستاسوسره تردے چه واپس کړی تاسودَ دین ستاسونه که طاقت ئے اورسیږی اوځوك چه واپس شوستاسونه دَ دین خپل نه پس مړشواودے کافروی پس دغه کسان برباد دی عملونه دَ دوی په دُنیا اواخرت کښ،اودغه کسان اور والادی، دوی په هغے کښ همیشه وی (۲۱۷)

طرف نه کنځل، بدنامے، مکرونه دے ته ﴿زُلْزِلُوْا﴾ کښ اشاره ده۔ مطلب دا دے چه رسول اومؤمنانو په ډیرے عاجزئ طلب کوو دَ مدد دَ الله تعالیٰ دَ الله تعالیٰ نه ئے شکایت نه کوؤ ﴿مَتٰى نَصْرُ اللّٰهِ﴾ دپاره دَ طلب دے مقصد په دیکښ طلب دَ مدد دَ الله تعالیٰ دے ناامیدی کول نه دی ځکه چه انبیاء اوصحابه دَ مدد دَالله تعالیٰ نه نا امیدی نه کوی ﴿اَلَآ اِنَّ نَصْرَ اللّٰهِ﴾ دا تسلی ده دَ طرف دَ الله تعالیٰ نه۔

[۲۱۵] دَ دے آیت نه دریم باب دے تر (۲۴۲) پورے۔ پدے کښ اتلس احکام دی دَپاره دَتدبیردَ کورنئے او رد دے په رسمونو دَ جاهلیت باندے په باره دَمال خرچ کولواودَ طلاق اورجوع وغیره کښ۔ په دے آیت کښ اول حکم دے بیان دَ مصارفو دَ انفاق اورد دے په رسم دَجاهلیت چه هغوی بے ځایه مالونه خرچ کول۔ اودا انفاق واجب دے په وخت دَ احتیاج دَ دوی کښ اودَ مالی طاقت دَ خرچ کوونکی کښ۔ اوپه دے آیت کښ دَبأساء نمونه ذکرده۔

[۲۱۶] دا دویم حکم دے پدے کښ یوقانون ته اشاره ده چه خیر اوشرپه خپل عقل باندے مه بناکوئے بلکه په شرع سره اوپیژنئے۔ بل دا رد دے په جاهلانوچه قتال بدګنړی او وائی دا صرف خونریزی ده۔ ﴿عَسٰى﴾ دَ طرف دَ الله تعالیٰ نه دَ یقین دپاره وی اوپه دے آیت کښ دَ الضراء نمونه ذکرده۔

[۲۱۷] دا دریم حکم دے چه دَ مبارك وختونو رعایت دَ شرع مطابق پکار دے او رد دے په طریقه

اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَالَّذِيْنَ هَاجَرُوْا وَجٰهَدُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۙ اُولٰٓئِكَ يَرْجُوْنَ رَحْمَتَ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۲۱۸﴾ يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ ؕ قُلْ فِيْهِمَآ اِثْمٌ كَبِيْرٌ وَّمَنَافِعُ لِلنَّاسِ ز وَاِثْمُهُمَآ اَكْبَرُ مِنْ نَّفْعِهِمَا ؕ وَيَسْـَٔلُوْنَكَ مَاذَا يُنْفِقُوْنَ ۬ قُلِ الْعَفْوَ ؕ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ الْاٰيٰتِ لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُوْنَ ﴿۲۱۹﴾ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ؕ وَيَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الْيَتٰمٰى ؕ قُلْ اِصْلَاحٌ لَّهُمْ خَيْرٌ ؕ وَاِنْ تُخَالِطُوْهُمْ

یقیناً هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے اوهغه کسان چه هجرت ئے کړے دے او جهاد ئے کړے دے په لارۀ اللّٰه تعالیٰ کښ دغه کسان امید لری ۀ رحمت ۀ اللّٰه تعالیٰ اواللّٰه تعالیٰ بخنه کۏونکے رحم والا دے (۲۱۸)تپوس کوی دوی ستانه په باره ۀ شرابواوۀ جوارئے کښ اُوایه په دے دواړوکښ ګناه ډیردے اوفائدے دی دپاره ۀ خلقو۔ اوګناه ۀ دے دواړو(نه چه پیداکیږی) زیات دے ۀ فائدے ۀ دے دواړونه اوتپوس کوی دوی ستانه چه څه شے دوی خرچ کړی؟ ته اووایه ۀ زیاتی نه (خرچ کوئے) دغسے وضاحت کوی اللّٰه تعالیٰ تاسوته ۀ احکامودے دپاره چه تاسوفکراوکړئے (۲۱۹) په دُنیا اواخرت کښ اوتپوس کوی دوی ستانه په باره ۀ یتیمانوکښ اُوایه ۀ فائدے کار ۀ دوی دپاره غوره دے اوکه ګډ خرچ کوئے ۀ دوی سره

ۀجاهلیت باندے چه کله به کمزوری وۏنومیاشت ۀحرمت کښ قتال ګناه ګنړلواوچه زورئے وونوهیڅ رعایت ئے نه کوو۔ اوشرك اوۀ مسجد حرام نه مؤحدین منع کول ورته ګناه نه ښکاره کیدلو۔ اودے آیت کښ تخویف اُخروی دپاره ۀمرتدینوذکرشوے دے اوپه دے آیت کښ ۀ زلزلوا نمونه ده یعنی ۀمخالفینوۀ اعتراضونوذکردے اوپه دے کښ اشاره ده چه غټ ګناه ۀ رد دپاره وړو کے معصیت حسن لغیره اوګرځی اودلته ۀکافرانو شپږ غټ کفریات اوګناهونه ذکردی ﴿حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ﴾ په دُنیا کښ ۀ حبط مطلب دا دے چه مونځونه او حجونه وغیره ته ئے اعتبار نیشته اوپه آخرت کښ حبط داچه ثواب برباد دے۔

[۲۱۸] دے آیت کښ زیږے دے ایمان والواو مهاجرینواومجاهدینوته په مقابله ۀ مرتدینوکښ ﴿يَرْجُوْنَ رَحْمَتَ اللّٰهِ﴾ دا جمله خبریه په معنیٰ ۀ انشاء ده یعنی امید دِ اوساتی۔

[۲۱۹] دا څلورم حکم دے په باره ۀ شرابوکښ اوجوارئے کښ۔ قانون پکښ دا دے چه یو څیز کښ فائده لږه وی او نقصان پکښ ډیر وی لکه خمر اومیسر نوۀ هغے نه ځان ساتئے اویوځیزکښ چه فائده ډیره اونقصان پکښ کم وی لکه انفاق فی سبیل اللّٰه نوهغه کوئے۔ اوپه دے کښ رد دے په جاهلیت والو، چه هغوی ۀ خمراومیسرفائدوته نظرکوی اونقصاناتوته نه ګوری ځکه جواری کوی اوشراب څکی۔ خمر هرهغه شراب چه سکر(نشه) پیداکوی او ۀ عقل پټ والے پیداکوی که ۀ هرے مادے نه جوړشوے وی۔ میسر، په دے کښ هرقسم جوارئے داخلے دی ﴿وَاِثْمُهُمَآ اَكْبَرُ مِنْ نَّفْعِهِمَا﴾ هغه ګناهونه چه ۀ دے دواړونه پیداکیږی۔ اکبرئے اُویل اکثرئے نه دی وئیلی اشاره ده چه یوغټ ګناه ۀ بے شماره منافعونه بد (قبیح) دے ﴿تَتَفَكَّرُوْنَ فِي الدُّنْيَاوَالْاٰخِرَةِ﴾ فکر ۀ دُنیا دا دے چه څه مال ۀ خپل ضرورت دپاره اوساتئے ټول مه خرچ کوئے اوفکر ۀ آخرت دا دے چه څه مال ۀ اللّٰه تعالیٰ دپاره خرچ کړئ۔

فَاِخْوَانُكُمْ ؕ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ الْمُفْسِدَ مِنَ الْمُصْلِحِ ؕ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَاَعْنَتَكُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿٢٢٠﴾
وَلَا تَنْكِحُوا الْمُشْرِكٰتِ حَتّٰى يُؤْمِنَّ ؕ وَلَاَمَةٌ مُّؤْمِنَةٌ خَيْرٌ مِّنْ مُّشْرِكَةٍ وَّلَوْ اَعْجَبَتْكُمْ ۚ وَلَا تُنْكِحُوا
الْمُشْرِكِيْنَ حَتّٰى يُؤْمِنُوْا ؕ وَلَعَبْدٌ مُّؤْمِنٌ خَيْرٌ مِّنْ مُّشْرِكٍ وَّلَوْ اَعْجَبَكُمْ ؕ اُولٰٓئِكَ يَدْعُوْنَ اِلَى النَّارِ ۖۚ
وَاللّٰهُ يَدْعُوْٓا اِلَى الْجَنَّةِ وَالْمَغْفِرَةِ بِاِذْنِهٖ ۚ وَيُبَيِّنُ اٰيٰتِهٖ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ﴿٢٢١﴾ وَ
يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الْمَحِيْضِ ؕ قُلْ هُوَ اَذًى ۙ فَاعْتَزِلُوا النِّسَآءَ فِي الْمَحِيْضِ ۙ وَلَا تَقْرَبُوْهُنَّ حَتّٰى يَطْهُرْنَ ۚ

پس رونړه ستاسودی، اوالله تعالی پیژنی روانے کړونکے دَ اصلاح کړونکی نه،اوکه غوختلے الله تعالی نوتاسوبه ئے په تکلیف کښ اچولے وے۔ یقیناً الله تعالی زور اور دے حکمت والا دے (۲۲۰) اومه کوئے نکاح دَ مشرکو زنانوسره ترهغے پورے چه ایمان راوړی، اوخامخا وینځه ایمان داره (مؤحده) غوره دهٔ دَ مشرکے (آزادے نه) اګرکه خوشحالوی تاسو لره (خائست اومال دَ هغے) اوپه نکاح سره مه ورکوئے (خپلے لونړه خویندے) مشرکانو سړوته ترهغے پورے چه دوی ایمان راوړی۔ اوخامخا مړئے مؤحد غوره دے دَ مشرك (آزادنه) اګرکه خوشحالوی تاسو(خائست اومال دَ هغه) دغه کسان بلنه کوی اورته، اوالله تعالی بلنه کوی جنت ته اوبخنے ته په حکم خپل سره اوبیانوی احکام خپل خلقوته دپاره دَ دے چه دوی نصیحت قبول کړی (۲۲۱) اوتپوس کوی دوی ستانه په باره دَ حیض کښ اُوایه داګندګی ده پس ډډه اوکړئے دَ ښځونه په ځائے دَ حیض کښ اومه نیزدے کیږئے دویته ترهغے پورے چه پاکے شی

[۲۲۰] دا پنځم حکم دے په باره دَ یتیمانوکښ او رد دے په طریقه دَ جاهلیت باندے چه هغوی په یتیمانو ظلم کوو او دَ هغوی مال به ئے په دهوکوسره خورِ ﴿الْمُفْسِدَ﴾ هغه دے چه دَ یتیمانومال خوری په دهوکه دَګډون سره ﴿لَاَعْنَتَكُمْ﴾ عنت لوئے مشقت او تکلیف ته وئیلے شی مراد ترینه سخت حکم ورکول دی۔

[۲۲۱] دا شپږم حکم دے منع دَنکاح دَاهل شرك نه ځکه چه دَمؤحد اودَمشرك په مینځ کښ اتفاق نشی راتلے اودا رد دے په جاهلانوچه هغوی په نکاح کښ دَمال اودَخائست اودَنسب لحاظ کوی۔ نوالله تعالی اوفرمائیل چه دَعقیدے اودَتوحید لحاظ کوئے۔

فائده ۱: شرك دا دے چه دَالله تعالی نه سیوابل ځوك اختیارمند اوواکدار دَنفع ضررګڼړی یا غیب دان ګڼړی یا په الله تعالی پورے خاص بندګی لکه سجده نذر وغیره دَالله تعالی نه سیوابل چادپاره کوی۔

فائده ۲: دَمشرکاتونه کتابیات مستثنیٰ دی په دلیل دَ سورهٔ مائده (۵) سره اګرچه لفظ دَ مشرکات هغوی ته شامل دے ﴿اُولٰٓئِكَ يَدْعُوْنَ﴾ دا علت دَ حرمت دَ نکاح دَ اهل شرك دے﴿النَّارِ﴾ نه مراد هغه عملونه دی چه اورته رسول کوی او﴿الْجَنَّةِ﴾ نه مراد هغه عملونه دی چه جنت ته رَسول کوی۔

فَاِذَا تَطَهَّرْنَ فَاْتُوْهُنَّ مِنْ حَيْثُ اَمَرَكُمُ اللّٰهُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ التَّوَّابِيْنَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِيْنَ ﴿٢٢٢﴾
نِسَآؤُكُمْ حَرْثٌ لَّكُمْ ۠ فَاْتُوْا حَرْثَكُمْ اَنّٰى شِئْتُمْ ۫ وَقَدِّمُوْا لِاَنْفُسِكُمْ ؕ وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّكُمْ
مُّلٰقُوْهُ ؕ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٢٢٣﴾ وَلَا تَجْعَلُوا اللّٰهَ عُرْضَةً لِّاَيْمَانِكُمْ اَنْ تَبَرُّوْا وَتَتَّقُوْا وَتُصْلِحُوْا
بَيْنَ النَّاسِ ؕ وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿٢٢٤﴾ لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللّٰهُ بِاللَّغْوِ فِيْٓ اَيْمَانِكُمْ وَلٰكِنْ يُّؤَاخِذُكُمْ بِمَا

پس کله چه دوی خه پاکے شی (په غسل کولو) پس رائے دویته د هغه ځائے نه چه حکم درکړے دے اللّٰه تعالیٰ، یقیناً اللّٰه تعالیٰ مینه کوی د توبه کؤونکو سره اومینه کوی د ځان پاك ساتونکوسره (۲۲۲) زنانه ستاسو پتے د کرونډے دے تاسولره پس رائے خپل پتی ته په هغه طریقه چه ستاسوخوښه وی اومخکښے (صحیح نیت اوکړئے) دپاره د فائدے خپلے او اویریږئے د اللّٰه تعالیٰ نه اوپوهه شئے چه یقیناً تاسومخامخ کیدونکی ئے د هغه سره، اوزیږے ورکړه ایمان والولره (۲۲۳) اومه ګرځوئے نوم د اللّٰه تعالیٰ منع کؤونکے د وجے د قسمونوستاسونه د نیکئے کولونه اود تقویٰ کولونه اود اصلاح کولونه په مینځ د خلقوکښ اواللّٰه تعالیٰ هرڅه آوری په هرڅه پوهه دے (۲۲٤) نه نیسی تاسواللّٰه تعالیٰ په بے ارادے قسمونوستاسوکښ، اولیکن نیسی تاسوپه هغه قسمونو

[۲۲۲] دا اوؤم حکم دے ځان ساتل د اذی نه په دے کښ رد دے په جاهلانودَیهودوباندے چه هغوی د حیض په حالت کښ دَښځے نه بالکل نفرت کوو، اوپه نصاراؤ باندے چه هغوی په داسے حالت کښ نزدیکت جائز ګڼری۔نوداسلام حکم کښ افراط اوتفریط نیشته ﴿اَلْمَحِيْضِ﴾ ځائے دَحیض چه عورت خاصه دے هغه محل د اذی دے ﴿لَا تَقْرَبُوْهُنَّ﴾ مراد د دے نه جماع کول دی ﴿يَطْهُرْنَ﴾ مراد د دے نه بندیدل د وینے دی ﴿تَطَهَّرْنَ﴾ مراد د دے نه غسل کول دی ﴿اَمَرَكُمُ اللّٰهُ﴾ چه اجازت ورکړے دے د هغے نزدیکت ﴿التَّوَّابِيْنَ﴾ هغه څوك چه په حال دَحیض کښ نزدیکت کوی اوتوبه په اخلاص سره کوی۔ ﴿الْمُتَطَهِّرِيْنَ﴾ هغه دی چه بالکل په حال د حیض کښ نزدیکت نه کوی۔

[۲۲۳] دا اتم حکم دے متعلق د زنانوسره یعنی هغه تعلق ساتل پکار دی چه د هغے نه د نسل پیدائش کیږی ځکه د نکاح مقصد اولاد زیاتول دی۔ دارد دے په هغه جاهلانوچه د زنانونه ناجائز فائده اخلی نکاح صرف د شهوت دپاره ګڼری او اولاد دپاره منصوبه بندی کوی ﴿فَاْتُوْا حَرْثَكُمْ﴾ راتلل (جماع کول) خاص دی په فرج پورے چه هغے ته ئے حرث وئیلے او روستوعورت ته فرث وئیلے شی ﴿اَنّٰى شِئْتُمْ﴾ دا په معنیٰ دَکیف اومتیٰ سره دے یعنی عموم دَکیفیاتواو اوقاتوته اشاره ده اومکان به یووی ﴿وَقَدِّمُوْا لِاَنْفُسِكُمْ﴾ نیت د پیدائش د اولاد ضروری دے۔

[۲۲٤] دانهم حکم دے مطلب دا دے چه د نیکئے اوداصلاح دَکارونونه ځان مه بندوئے اګرچه قسم هم کړے وی۔هغه قسم به ماتول واجب وی اودارد دے په جهل دَخلقوباندے چه بے ځایه قسمونه کوی اوځان دَنیك کارونونه بندوی په قسم کولوسره ﴿عُرْضَةً﴾ دوه معانے دی اوله معنیٰ په معنیٰ دَمانع دے یعنی منع کوؤنکے د نیکئے نه۔ دویمه معنیٰ په معنیٰ د نشانه ویشتلودے یعنی نښه د ډیرو قسمونو خوړلو ﴿اَنْ تَبَرُّوْا﴾ کښ دَبندګانو حقوق اداکولوته اشاره ده ﴿وَتَتَّقُوْا﴾ کښ دَاللّٰه تعالیٰ حقونوته اشاره ده۔

كَسَبَتْ قُلُوْبُكُمْ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ حَلِيْمٌ ﴿٢٢٥﴾ لِلَّذِيْنَ يُؤْلُوْنَ مِنْ نِّسَآئِهِمْ تَرَبُّصُ اَرْبَعَةِ اَشْهُرٍ ۚ
فَاِنْ فَآءُوْ فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٢٢٦﴾ وَاِنْ عَزَمُوا الطَّلَاقَ فَاِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿٢٢٧﴾ وَالْمُطَلَّقٰتُ
يَتَرَبَّصْنَ بِاَنْفُسِهِنَّ ثَلٰثَةَ قُرُوْٓءٍ ؕ وَلَا يَحِلُّ لَهُنَّ اَنْ يَّكْتُمْنَ مَا خَلَقَ اللّٰهُ فِيْٓ اَرْحَامِهِنَّ اِنْ كُنَّ
يُؤْمِنَّ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ؕ وَبُعُوْلَتُهُنَّ اَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ فِيْ ذٰلِكَ اِنْ اَرَادُوْٓا اِصْلَاحًا ؕ وَلَهُنَّ

چه قصد کړے وی زړونو ستاسو اوالله تعالیٰ بخنه کړونکے صبرناك دے (۲۲۵) دپاره دَ هغه کسانوچه په قسم سره جداکیږی دَ ښځوخپلونه انتظاردَ څلورو میاشتو دے پس که واپس شو (دوی دَ قسم نه) پس یقیناً الله تعالیٰ بخنه کړونکے رحم کړونکے دے (۲۲۶)اوکه دوی قصد اوکړو دَ طلاق پس یقیناً الله تعالیٰ آوریدونکے پوهه دے په هرڅه (۲۲۷) اوطلاقے کړے شوے ښځے انتظار به کوی په ځانونو خپلو سره درے حیضه، اوحلال نه دی دوی لره چه پټوی هغه شے چه پیداکړے دے الله تعالیٰ په رحمونو دَ دوی کښ که چرے ایمان لری په الله تعالیٰ اوپه ورځ روستنئے او خاوندان دَ دوی حقدار دی په واپسئے دَ دوی په دے (عدت) کښ که چرے دوی اراده لری دَ جوړخ اودَ دوی (ښځو) لره حقونه دی

﴿وَتُصْلِحُوْا﴾ دَ خلقونه شر دفع کول دی اودا دَ دین خلاصه ده۔

[۲۲۵] دا آیت دَ محکمښ آیت سره تعلق لری پدے کښ دَ قسم اقساموته اشاره ده (۱) لغوقسم: چه بے ارادے عادةً یا په هیره قسم اوکړی (۲) منعقده: چه دَ راتلونکے زمانے په باره کښ قسم اوکړی دَکارکولویانه کولو (۳) غموس: قصداً په دروغه قسم کول۔ اول قسم کښ هیڅ نیشته نه ګناه اونه کفاره دویم قسم کښ په وخت دَ قسم ماتولوکښ کفاره ده۔ دریم قسم کښ لوئے ګناه دے اوعذاب دے اوکفاره کښ اختلاف دَ اهل علم دے ﴿بِمَا كَسَبَتْ قُلُوْبُكُمْ﴾کسب په معنیٰ دَ نیت اوارادے کولودے نوهغه قسم منعقده اوغموس دواړوته شامل دے۔

[۲۲۶] په دے کښ لسم حکم دے یعنی جدائی دَ ښځے په طریقه شرعی سره پکار ده اوله طریقه مسئله دَ ایلاء ده پدے کښ رد دے په طریقه دَ جاهلیت چه چا به قسم اوکړوښځوته نوهغه به ئے همیشه دپاره حرامه ګنړله۔ ایلاء: دَ ښځے نه دَ جدائے قسم کول که نیته ئے مقرر کړے وی یو میاشت یا زیات ترڅلورو میاشتو پورے یائے نیته نه وی مقررکړی نوکه نیته دَڅلورو میاشتوئے کیخودلی وی اویانه لیکن دَ څلورو میاشتو انتظاربه وی﴿فَاِنْ فَآءُ وْا﴾ که رجوع اوکړی ښځے ته روستودَ څلورو میاشتونه یا طلاق ورکړی دا په نیز دَ اکثر صحابه کرامو﷢ یا رجوع اوکړی په مدت دَ څلورو میاشتوکښ دننه۔

[۲۲۷] په دے کښ دَ ایلاء حکم دے که رجوع اوکړی په څلورومیاشتوکښ یاروستو (بنا په اختلاف) نوګناه نیشته۔ اوکه رجوع اونه کړی نویوطلاق واقع شو۔

مِثْلُ الَّذِيْ عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوْفِ ۪ وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ ؕ وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿٢٢٨﴾ اَلطَّلَاقُ مَرَّتٰنِ ۪
فَاِمْسَاكٌۢ بِمَعْرُوْفٍ اَوْ تَسْرِيْحٌۢ بِاِحْسَانٍ ؕ وَلَا يَحِلُّ لَكُمْ اَنْ تَاْخُذُوْا مِمَّآ اٰتَيْتُمُوْهُنَّ شَيْـًٔا اِلَّآ اَنْ
يَّخَافَآ اَلَّا يُقِيْمَا حُدُوْدَ اللّٰهِ ؕ فَاِنْ خِفْتُمْ اَلَّا يُقِيْمَا حُدُوْدَ اللّٰهِ ۙ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا فِيْمَا
افْتَدَتْ بِهٖ ؕ تِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ فَلَا تَعْتَدُوْهَا ۚ وَمَنْ يَّتَعَدَّ حُدُوْدَ اللّٰهِ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿٢٢٩﴾

پشان دَ هغے چه په دوی لازم دی په شرعی طریقه اودپاره دَ نارینوپه زنانوباندے اوچته درجه ده۔ اوالله تعالی زور اوردے حکمتونو والادے (۲۲۸) طلاق (رجعی) دوه کرته دے پس حصارول دی په ښه طریقه یاپریخودل دی په خائسته طریقه اوحلال نه دی تاسو لره چه واخلئے تاسو دَ هغے نه چه ورکړے دے تاسودویته څه شے مګرهغه وخت چه ویریږی دادواړه چه پوره به نه کړی پولے دَ الله تعالی پس که ویریدئے تاسوچه پوره به نه کړی دوی پولے دَ الله تعالی پس نیشته ګناه په دے دواړوپه هغه مال کښی چه بدله ورکوی (ښځه) دا پولے دَ الله تعالی دی پس مه تیریږئے دَ دینه، اوهغه څوك چه ورتیرشی دَ پولے دَ الله تعالی نه پس دغه کسان دوی ظالمان دی (۲۲۹)

[۲۲۸] دے آیت کښی ذکر دَ عدت دے دَ هغه ښځوچه حامله نه وی اوحیض والاوی اوحره (آزاده) وی اونزدیکت ورته شوے وی۔ نودَ داسے ښځے عدت درے حیضه دے (په یوقول سره) لهٰذا په دے یوجمله کښی دَ ښځے او دَ خاوند دَ حقونو ذکردے اوپدے کښی دَ نارینه اوچتوالے ذکردے ﴿قُرُوْٓءٍ﴾ جمع دَقرء ده حیض اوطهر دواړوته وئیلے شی ﴿فِيْٓ اَرْحَامِهِنَّ﴾ مراد دَ دے نه حمل دے یا حیض دے دا به نه پټوی ځکه چه په دے سره دَعدت اقسام بدلیږی ﴿اَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ﴾ احق تفضیل په معنیٰ دَ صرف حقیق (حق دار) دے یا احق ئے دَ ارادو اصلاحاً دَ وجے نه ذکرکړے دے ﴿وَلَهُنَّ مِثْلُ﴾ په دے لګ عبارت کښی دِیر حقوق دَښځے خاوندته اشاره ده اومثل کښی مثلیت په لزوم اووجوب کښی مراد دے په تعدادکښی مراد نه دے ﴿وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ﴾ داصریح دے په فضیلت دَ نارینوچه هغه دَ داسے کارونو دَپاره صلاحیت لری چه زنانه دَ هغے صلاحیت نه لری۔

[۲۲۹] په جاهلیت کښی دَ طلاق شمارنه وؤ نوقرآن په هغے رد اوکړو او دے ایت کښی ذکر دَ خلع دے چه زنانه خاوند ته مهرواپس ورکړی اوهغه ئے پریږدی ﴿مَرَّتٰنِ﴾ دوه په یوبل پسے دی اشاره ده چه احسن طریقه دا ده چه په یوطهر کښی طلاق ورکړی بیاورپسے په بل طهر کښی دویم طلاق ورکړی۔ ﴿فَاِمْسَاكٌ﴾ مراد دَ دے نه رجوع کول دی په حال دَ عدت کښی ﴿اَوْ تَسْرِيْحٌ﴾مراد دَ دے نه رجوع نه کول دی یا دریم طلاق ورکول دی په بل طهرکښی ﴿وَلَا يَحِلُّ لَكُمْ اَنْ تَاْخُذُوْا﴾ دا رد دے په طریقه دَ جاهلیت باندے دارنګ په سورة نساء (۲۰)کښی دی ﴿مِمَّآ اٰتَيْتُمُوْهُنَّ شَيْـًٔا﴾ عاموم‌فسرینو دَ دے نه مهرمراد کړے دے اوابن عربی دَ دے نه هغه ټول څیزونه مراد کړی دی چه ماسیوا دَمهرنه هم خاوند ښځے ته ورکړی وی ﴿فَاِنْ خِفْتُمْ﴾ دَ دے نه مخکے حکم دَ صلح کولودے په سورة نساء (۳۵)کښی نوپه خفتم کښی خطاب صلح کوؤنکوته دے ﴿فِيْمَا افْتَدَتْ﴾ مرادپه دے سره هغه مهردے چه ښځه ئے په رضاسره خاوندته واپس ورکوی په بدله دَخلع کولو ﴿تِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ﴾ په دے کښی اشاره ده دَ طلاق ذکرکړے شوے طریقوته چه

فَاِنْ طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهٗ مِنْۢ بَعْدُ حَتّٰى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهٗ ؕ فَاِنْ طَلَّقَهَا فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَآ اَنْ
يَّتَرَاجَعَآ اِنْ ظَنَّآ اَنْ يُّقِيْمَا حُدُوْدَ اللّٰهِ ؕ وَتِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ يُبَيِّنُهَا لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ﴿٢٣٠﴾ وَاِذَا طَلَّقْتُمُ
النِّسَآءَ فَبَلَغْنَ اَجَلَهُنَّ فَاَمْسِكُوْهُنَّ بِمَعْرُوْفٍ اَوْ سَرِّحُوْهُنَّ بِمَعْرُوْفٍ ۪ وَّلَا تُمْسِكُوْهُنَّ ضِرَارًا
لِّتَعْتَدُوْا ۚ وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهٗ ؕ وَلَا تَتَّخِذُوْٓا اٰيٰتِ اللّٰهِ هُزُوًا ۠ وَّاذْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ
عَلَيْكُمْ وَمَآ اَنْزَلَ عَلَيْكُمْ مِّنَ الْكِتٰبِ وَالْحِكْمَةِ يَعِظُكُمْ بِهٖ ؕ وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ
شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿٢٣١﴾ وَاِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ فَبَلَغْنَ اَجَلَهُنَّ فَلَا تَعْضُلُوْهُنَّ اَنْ يَّنْكِحْنَ اَزْوَاجَهُنَّ

ع ١٩ الثلثة

پس که طلاق ئے ورکړو (دریم طلاق) پس نه ده حلاله دابښځه دهٗ لره روستو (دَ دریم طلاق نه) ترهغے پورے چه نکاح اوکړی دَ بل خاوند سره، پس که طلاق ئے ورکړو، پس نیشته ګناه په دے دواړوچه واپس شی یوبل ته (په نکاح کولو) سره که چرے خیال ساتی دا دواړه چه اوبه ساتی پولے دَ اللّٰه تعالیٰ۔ اودا پولے دَ اللّٰه تعالیٰ دی بیانوی دا دپاره دَ هغه قوم چه پوهیږی (۲۳۰) اوکله چه طلاق ورکړئے تاسو ښځوته پس نزدے شی هغوی نیټے خپلے ته پس حصارے کړئے هغوی په ښه طریقه (رجوع کول) یا پریږدئے هغوی په ښه طریقے سره، اومه حصاروئے دوی دپاره دَ ضررچه دَ حدنه تیریږئے اوچاچه داکار اوکړو پس یقیناً ظلم ئے اوکړو په ځان خپل، اومه ګرځوئے آیاتونه دَ اللّٰه تعالیٰ ټوقے، اویادکړئے احسان دَ اللّٰه تعالیٰ په تاسوباندے اوهغه چه نازل کړے دے اللّٰه تعالیٰ پتاسوباندے دَکتاب (قرآن) اودَ سنت نه، وعظ درکوی په هغے سره او اؤویریږئ دَ اللّٰه تعالیٰ نه اوپوهه شئے یقیناً اللّٰه تعالیٰ په هرځیزباندے پوهه دے (۲۳۱) اوکله چه طلاق ورکړئے تاسو ښځوته پس ختم کړی هغوی عدت خپل پس مه منع کوئے دوی لره چه نکاح اوکړی دَ خاوندانو خپلوسره

دریم طلاق به جدا وی درے به په یوځائے نه وی او په طهر کښ به وی۔

[۲۳۰] پدے آیت کښ دریم طلاق ذکر دے په دلیل دَ فا سره دَ هغے نه روستو ښځه دَ مخکښ خاوند دپاره بغیرد تحلیل نه نه حلالیږی اوحیله کول ناجائزدی په حدیث کښ په محلل اومحال له باندے لعنت وئیلے شوے دے اوپه حدیث دَابن عباس رضی اللّٰه عنهما چه مسلم نقل کړے دے او په حدیث دَ رکانه چه مسنداحمد روایت کړے دے په هغے کښ سنت دَنبیﷺ او ابوبکرؓ اودَ عمرؓ دَ دوه کالوسنت دا دے چه درے طلاق چه په یوځائے ورکړے شی نویوطلاق رجعی به واقع کیږی ﴿حَتّٰى تَنْكِحَ﴾ مراد دَ دے نه جماع کول دی او دارنګ په صحیح حدیث سره جماع دَ دویم خاوند شرط کړے شویده ﴿اِنْ ظَنَّآ اَنْ يُّقِيْمَا﴾ ظن (ګمان) ئے په دے وجے سره وئیلے چه دَ راتلونکی وخت علم یقینی انسان ته نشی کیدے۔

[۲۳۱] په دے آیت کښ رد دے په طریقه دَ جاهلیت چه هغوی به هرطلاق پسے رجوع کوله او مقصد دَ رجوع دَ هغوی ښځے له ضرر ورکول وولکه چه دَ طلاق تعداد هم دَ دوی په نیز باندے نه وؤ ﴿اٰيٰتِ اللّٰهِ هُزُوًا﴾ په ایاتونو پورے توقے کول دا دی چه په هغے باندے عمل نه کوی او دا ئے سپك والے دے ﴿فَبَلَغْنَ اَجَلَهُنَّ﴾ بَلَغَ دلته په معنیٰ دَنزدے کیدلودے ﴿اَجَلَهُنَّ﴾ مراد دے نه عدت مقرره دے ﴿نِعْمَتَ اللّٰهِ﴾ مراد دَ

اِذَا تَرَاضَوْا بَيْنَهُمْ بِالْمَعْرُوْفِ ؕ ذٰلِكَ يُوْعَظُ بِهٖ مَنْ كَانَ مِنْكُمْ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ؕ
ذٰلِكُمْ اَزْكٰى لَكُمْ وَاَطْهَرُ ؕ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ وَاَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿٢٣٢﴾ وَالْوَالِدٰتُ يُرْضِعْنَ اَوْلَادَهُنَّ
حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ لِمَنْ اَرَادَ اَنْ يُّتِمَّ الرَّضَاعَةَ ؕ وَعَلَى الْمَوْلُوْدِ لَهٗ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ ؕ
لَا تُكَلَّفُ نَفْسٌ اِلَّا وُسْعَهَا ۚ لَا تُضَآرَّ وَالِدَةٌ ۢ بِوَلَدِهَا وَلَا مَوْلُوْدٌ لَّهٗ بِوَلَدِهٖ ۚ وَعَلَى الْوَارِثِ
مِثْلُ ذٰلِكَ ۚ فَاِنْ اَرَادَا فِصَالًا عَنْ تَرَاضٍ مِّنْهُمَا وَتَشَاوُرٍ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا ؕ وَاِنْ اَرَدْتُّمْ اَنْ
تَسْتَرْضِعُوْٓا اَوْلَادَكُمْ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ اِذَا سَلَّمْتُمْ مَّآ اٰتَيْتُمْ بِالْمَعْرُوْفِ ؕ وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ
اللّٰهَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿٢٣٣﴾ وَالَّذِيْنَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَيَذَرُوْنَ اَزْوَاجًا يَّتَرَبَّصْنَ بِاَنْفُسِهِنَّ

کله چه رضاشی دوی په مینځ خپل کښ په جائز طریقه (نکاح کول) داحکم وعظ ورکیدے شی په دے سره هغه چاته چه وی ستاسونه ایمان لری په اللّٰه تعالیٰ اوبه ورځ روستنئے داحکم بچ کؤونکے دے تاسولره دَ بدنامئے نه اوپاکؤونکے دے (دَبدکارئے نه) اواللّٰه تعالیٰ پوهیږی اوتاسونه پوهیږئے (۲۳۲) اومیاندے دِ پئے ورکوی بچوخپلوته دوه کاله پوره هغه چاڅه چه غواړی چه پوره کړی پئے ورکول او په پلاردَ بچی باندے خوراك دَ دوی اوجامه دَ دوی ده په بنه طریقه (دَ عرف موافق) کړاؤنشی ورکیدے هیڅاته مګر برابر دَ وس دَ هغه، ضررِد نشی ورکیدلے مورته په وجه دَ بچی دَ هغے اونه پلارته په وجه دَ بچی دَ هغه اوپه وارث دَ پلار باندے (چه دغه بچے دے) پشان دغه خرچه ده پس که اوغواړی دوی دَ تی نه پریکول په رضا دَ دے دواړو اوپه مشوره دَ دوی پس هیڅ ګناه نیشته (په موده نه پوره کولوکښ) اوکه تاسو اوغواړئے چه دائی اونیسئے دپاره دَ بچو خپلوپس نیشته هیڅ ګناه پتاسوباندے کله چه پوره ورکوئے هغه چه مقررکړے وی تاسوپه بنه طریقے سره او اویریږئ دَ اللّٰه تعالیٰ نه اوپوهه شئے یقیناً اللّٰه تعالیٰ ستاسو عملونه وینی (۲۳۳) او هغه سړی چه مړه شی ستاسونه اوپریږ دی بنځے انتظارِد اوکړی په ځانونوخپلو باندے

دے نه احکام دَ نکاح اوطلاق تفصیلی دی۔

[۲۳۲] دا یؤلسم حکم دے دَطلاق نه روستو نکاح کول او دا رد دے په طریقه دَ جاهلیت چه چا به یو بنځے له طلاق ورکړو اوبیا به دَ دے بنځے سره مخکښی خاوند نکاح کوؤ نودوی به دا شرم ګنړو۔ دویم رسم داوؤ چه دا بنځه به ئے بل چاسره نکاح کولوته هم نه پریخودله اوشرم به ئے ګنړو ﴿فَبَلَغْنَ﴾ دلته بلوغ په معنیٰ حقیقی سره دے ﴿اَزْوَاجَهُنَّ﴾ په اوله توجیه سره مراد دَ دے نه مخکښے خاوند دے اوپه دویمه توجیه مرادبل خاوند دے چه دَ هغه سره به اوس نکاح کوی ﴿ذٰلِكَ يُوْعَظُ﴾ هرکله چه رواج ختم کول مشکل وی دَ دے وجے نه درے تاکیدات ئے ذکرکړی دی ﴿اَزْكٰى لَكُمْ وَاَطْهَرُ﴾ دواړو کښ فرق دا دے چه اول په معنیٰ دَ بدنامئے (دَ باطل تعلق) نه بچ ساتل دی اواطهرد بدکارئے اوفحش کارئے نه پاك ساتل۔

[۲۳۳] دا دولسم حکم دے مسئله دَ رضاع او دَ تربیت دَ بچو۔ رد دے په جاهلیت باندے چه کله به

اَرْبَعَةَ اَشْهُرٍ وَّعَشْرًا ۚ فَاِذَا بَلَغْنَ اَجَلَهُنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيْمَا فَعَلْنَ فِيْٓ اَنْفُسِهِنَّ بِالْمَعْرُوْفِ ۭ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ۝٢٣٤ وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيْمَا عَرَّضْتُمْ بِهٖ مِنْ خِطْبَةِ النِّسَاۗءِ اَوْ اَكْنَنْتُمْ فِيْٓ اَنْفُسِكُمْ ۭ عَلِمَ اللّٰهُ اَنَّكُمْ سَتَذْكُرُوْنَهُنَّ وَلٰكِنْ لَّا تُوَاعِدُوْهُنَّ سِرًّا اِلَّآ اَنْ تَقُوْلُوْا قَوْلًا مَّعْرُوْفًا ۬ وَلَا تَعْزِمُوْا عُقْدَةَ النِّكَاحِ حَتّٰى يَبْلُغَ الْكِتٰبُ اَجَلَهٗ ۭ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ

خلور میاشتے اولس شپے ورځے، پس کله چه ختم کړی دوی عدت خپل پس نیشته هیڅ ګناه پتاسو باندے په هغه کارکښ چه کوی دوی په باره دَ ځانونو خپلو کښ په جائز طریقه (نکاح کول) او الله تعالیٰ ستاسو په عملونو خبردار دے (٢٣٤)اونیشته هیڅ ګناه په تاسو باندے په هغه لفظونو کښ چه اشارے کوئے تاسو په هغے د پاره دَ غوښتنے دَ زنانویا پټه اراده لرئے (دپاره دَ نکاح دَ هغوی) په زړونو خپلو کښ پوهه دے الله تعالیٰ چه یقیناً تاسو یادوئے به دوی (دپاره دَ نکاح) اولیکن وعدے مه کوئے دَ دوی سره په پټه باندے مګر که وائے تاسو وینا جائز(اشارے کول) اومه کلکه وئے غوټه دَ نکاح (یعنی نکاح مه ترئے) ترهغے پورے چه اورسی عدت خپلے نیټے ته اوپوهه شئے یقیناً الله تعالیٰ پوهیږی

ښځه طلاقه شوه نو بیائے دَ خاوند سره داسے دُشمنی وه چه دَ هغه بچوته به ئے پئے نه ورکول۔ اوکه هغے به پئے ورکول نو دهٗ به ورلره هیڅ خرچ نه ورکوؤ نودَ هغے دپاره ئے قانون مقررکړو ﴿مَوْلُوْدٌ لَّهٗ﴾ پلارته وائی او پدے کښ اشاره ده چه نسب دَ بچی پلارپسے ځی نه په مورپسے سیوا دَ ال دَ نبی ﷺ نه ځکه ال فاطمه رضی الله عنها نسب دَنبی ﷺ دے ﴿وَالْوَالِدٰتُ﴾ دلته مراد هغه میندے دی چه طلاق ورکړے شی اوعدت ئے هم تیرشی لیکن وړو کے بچے ورسره وی نوپه دے باندے پئے ورکول دَبچی لازم دی اوپه پلارد بچی باندے دَهغے اُجرت ورکول لازم دی ﴿حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ﴾ دا صاف دلیل چه مدت دَ رضاعت صِرف دوه کلونه دی ﴿لِمَنْ اَرَادَاَنْ يُّتِمَّ﴾ اشاره ده چه اتمام دَ دوه کالوهم ځه واجب کارنه دے ﴿بِوَلَدِهَا﴾ اضافت دَ ولد مورته دپاره دَ شفقت کولودَ هغے دے ﴿وَعَلَى الْوَارِثِ﴾ که پلار ژوندے نه وی اوبچے مال والاوی نودَ بچی په مال کښ دَ مورخرچه لازم ده اوکه دَ بچی مال نه وی نوبیا نیزدے رشته دارچه دَ هغه محرم او وارث وی چه په هغه باندے لازم دی ﴿وَاِنْ اَرَدْتُّمْ اَنْ تَسْتَرْضِعُوْٓا﴾ یعنی که موردَ بچی معذوره وی یا ډیره تنخواه غواړی نوپلارله جائزدی چه بله زنانه دَرضاع دَ بچی دپاره اونیسی اوپه ځه طریقه اجرت ورکوی دپاره دَ دے چه دَ بچی ښه تربیت اوکړے شی۔

[٢٣٤] پدے آیت کښ دیارلسم حکم دے۔عدت پس دَوفات دَ خاوند نه۔ او دَ هغے نه روستو دَنکاح اجازت دے او رد په جاهلیت والو چه هغوی په کونډوباندے ډیرظلمونه کول اونکاح ته به ئے نه پریخودله بلکه خرڅول به ئے کول اودا عدت دَ غیرحاملے دے۔ اودَحاملے عدت په سورة طلاق (٤) کښ ذکردے۔ ﴿بِالْمَعْرُوْفِ﴾ مراد دَ دے نه نکاح کول دی اوپه زمانه دَ عدت په دغه ښځه باندے (حداد) ډول سنګار پریخودل هم واجب دی۔

مَا فِيْٓ اَنْفُسِكُمْ فَاحْذَرُوْهُ ۚ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ حَلِيْمٌ ﴿٢٣٥﴾ لَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ اِنْ طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ مَا لَمْ
تَمَسُّوْهُنَّ اَوْ تَفْرِضُوْا لَهُنَّ فَرِيْضَةً ۖ وَّمَتِّعُوْهُنَّ ۚ عَلَى الْمُوْسِعِ قَدَرُهٗ وَعَلَى الْمُقْتِرِ قَدَرُهٗ ۚ مَتَاعًا
بِالْمَعْرُوْفِ ۚ حَقًّا عَلَى الْمُحْسِنِيْنَ ﴿٢٣٦﴾ وَاِنْ طَلَّقْتُمُوْهُنَّ مِنْ قَبْلِ اَنْ تَمَسُّوْهُنَّ وَقَدْ فَرَضْتُمْ لَهُنَّ
فَرِيْضَةً فَنِصْفُ مَا فَرَضْتُمْ اِلَّآ اَنْ يَّعْفُوْنَ اَوْ يَعْفُوَا الَّذِيْ بِيَدِهٖ عُقْدَةُ النِّكَاحِ ۭ وَاَنْ تَعْفُوْٓا
اَقْرَبُ لِلتَّقْوٰى ۭ وَلَا تَنْسَوُا الْفَضْلَ بَيْنَكُمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿٢٣٧﴾ حٰفِظُوْا عَلَى الصَّلَوٰتِ

په هغه څه چه ستاسو په زړونو کښ دی پس ځان اوساتئ دَ نافرمانئ دَ اللّٰه تعالیٰ نه اوپوهه شئ یقیناً اللّٰه تعالیٰ بخنه کؤونکے دے صبر کؤونکے دے(۲۳۵) نیشته هیڅ تاوان پتاسو باندے که چرے طلاق ورکړئے ښځوته څوچه نه ئے رسیدلی دویته، یا څوچه نوی مقررکړے دوی لره مهر، اوسامان ورکړئے دوی له په مالدار باندے په قدر دَ طاقت دَ هغه اوپه غریب باندے په قدردَ طاقت دَ هغه دے۔ سامان ورکول دَ عرف موافق حق لازم دے په نیك عملوخلقوباندے (۲۳۶)اوکه طلاق ورکړئے تاسو دوی ته مخکښے دَ یوځائے کیدلوستاسودَ دوی سره او مقرر کړے وی تاسو دوی لره مهرپس لازم دے نیمه دَ هغه مهرچه مقررکړے وی تاسو مګرکه معافے اوکړی زنانه دَ حق خپل نه یامعافے اوکړی هغه کس چه دَ هغه په لاس کښ غوټه دَ نکاح ده اومعافے کول ستاسوښه نزدے دے تقویٰ ته، اومه هیروئے احسان کول په مینځ خپل کښ یقیناً اللّٰه تعالیٰ ستاسوعملونه وینی (۲۳۷) ساتنه کوئے په ټولومونځوباندے

[۲۳۵] دا څوارلسم حکم دے په حالت دَ عدت کښ حکم دَ خطبے (طلب کول دَ نکاح) اودَ نکاح کولو۔ حاصل دا دے چه په حال دَ عدت کښ دوه کارونه جائزدی (۱) په اشاروځخه پوهه کول دَپاره دَ نکاح روستودَ عدت تیریدلونه (۲) په زړه کښ پټه اراده ساتل دَنکاح دَ هغے۔ اودوه کارونه پکښ منع دی (۱) نکاح ترڅ په حال دَ عدت کښ فاسد دی (۲) په صریح الفاظوسره وعده کول چه نکاح به کوؤ ګناه دے ﴿عَلِمَ اللّٰهُ اَنَّكُمْ﴾ دا اشاره ده علت دَجائزکولودَ مخکے دوه کارونوته ﴿قَوْلًا مَّعْرُوْفًا﴾ مراد دَ دے نه قول دے په تعریض سره۔

[۲۳۶،۲۳۷] دا پنځلسم حکم دے طلاق ورکول رواندے دَ یوځائے کیدلونه۔ جاهلیت والو دیته هیڅ اعتبار نه ورکوو۔ شرعی حکم دا دے چه دا طلاق جائز دے نوکله چه نزدیکت نوی شوے او په وخت دَنکاح کښ مهرهم نوی مقررکړے نو په خاوند متعه واجب ده۔ هغه لوپټه جوړه جامه پرونے پیزار وغیره دی۔﴿الْمُحْسِنِيْنَ﴾ مراد دَ دے نه مسلمانان دی لیکن داصفت ئے دَ تا کید دپاره ذکرکړے دے اوچه نزدیکت ئیے نه وی کړے لیکن مهرئے مقررکړے وی نونیم مهردَ ښځے حق دے﴿اِلَّآ اَنْ يَّعْفُوْنَ﴾ یعنی که خاوند کل مهرپه وخت دَ نکاح کښ ښځے ته اداکړے وی نو روستو دَطلاق نه نیم واپس وانخلی بلکه معاف ئیے کړی ﴿بِيَدِهٖ عُقْدَةُ النِّكَاحِ﴾ نه خاوند مراد دے اوکه په وخت دَ نکاح کښ هیڅ حصه دَمهرئے نوی ورکړے نو روستودَ طلاق نه دِ نیم ورکوی لیکن که ښځه ئے معاف کړی﴿وَلَا تَنْسَوُا الْفَضْلَ﴾ کښ مطلب دا دے چه دَ طلاق دَ وجے نه دَ یوبل سره اسلامی تعلقات مه پریږدئ او دُشمنی مه پیداکوئے

وَالصَّلٰوةِ الْوُسْطٰى ۚ وَقُوْمُوْا لِلّٰهِ قٰنِتِيْنَ ﴿٢٣٨﴾ فَاِنْ خِفْتُمْ فَرِجَالًا اَوْ رُكْبَانًا ۚ فَاِذَآ اَمِنْتُمْ فَاذْكُرُوا
اللّٰهَ كَمَا عَلَّمَكُمْ مَّا لَمْ تَكُوْنُوْا تَعْلَمُوْنَ ﴿٢٣٩﴾ وَالَّذِيْنَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَيَذَرُوْنَ اَزْوَاجًا ۖ
وَّصِيَّةً لِّاَزْوَاجِهِمْ مَّتَاعًا اِلَى الْحَوْلِ غَيْرَ اِخْرَاجٍ ۚ فَاِنْ خَرَجْنَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيْ مَا
فَعَلْنَ فِيْٓ اَنْفُسِهِنَّ مِنْ مَّعْرُوْفٍ ۗ وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿٢٤٠﴾ وَلِلْمُطَلَّقٰتِ مَتَاعٌۢ بِالْمَعْرُوْفِ ۖ حَقًّا

اوپه مانځه مینځنی (غوره) او اودریږئ اللّٰه تعالیٰ ته تابعداری کۀونکی (۲۳۸) پس که ویره کوئے تاسوپس (مونځ کوئے) پیاده یاسواره پس کله چه په امن شئے تاسو پس یاد وئے اللّٰه تعالیٰ لکه څنګه چه خودنه کړے ده تاسوته اللّٰه تعالیٰ دَ هغه څیزچه تاسوپه هغے باندے نه پوهیدلئے (۲۳۹) اوهغه سړی چه مړه کړے شی ستاسونه اوپریږدی ښځے (نووصیت دِ اوکړی) وصیت په باره دَ ښځوخپلوکښ دَ خرچے ورکولو تریوکال پورے نه به وی ویستل دَ هغوی (دَکوردَ خاوندنه) پس که اوځی هغوی پس (دَ واجب عدت نه) پس نیشته هیڅ ګناه پتاسو باندے په هغه کار کښ چه کوی دوی په باره دَ ځانونوخپلوکښ څه نیك کار اواللّٰه تعالیٰ زور اُور دے حکمتونو والادے (۲۴۰) اودپاره دَ طلاق کړے شوو ښځوسامان ورکول دی دَ عرف برابرلازم دی

﴿لَاجُنَاحَ﴾ دلته عامه معنیٰ ده یعنی ګناه اوتاوان دُنیوی (مهر) دواړه نیشته۔

[۲۳۸] دا شپارلسم حکم دے دَ مانځه دَ حفاظت۔ اشاره ده دیته چه دَ کور انتظام بغیر دَ مانځه نه نه جوړیږی او دارنګ اشاره ده دیته چه په مسائلودَ زنانواوپه فقهی احکاموکښ دَشغل په وجے سره دَمانځه نه غافل نشئ۔ اکثر روایتونوکښ راغلی دی چه صلوٰة وسطیٰ دَ ماذیګر مونځ دے۔ اومحافظت، نه مراد هرمونځ په خپل وخت شرعی کښ کول او چه فرائض واجبات پوره اداشی خشوع اوسنن اومستحبات هم اداشی ﴿وَقُوْمُوْا لِلّٰهِ﴾ دا دلیل دے چه قیام دَ مانځه رکن دے ﴿قٰنِتِيْنَ﴾ قنوت اکثر په معنیٰ دَ طاعت سره راځی یا مراد دَ دے نه سکوت دے دَ دنیوی خبرونه۔

[۲۳۹] په دے کښ حکم دَ صلوة دے په وخت دَ شدت خوف کښ چه دَ خوف دَ وجے نه په یوځائے باندے قیام نشی کولے ﴿فَرِجَالاً اَوْرُكْبَاناً﴾ پیاده روان وی یاپه سورلئے سور وی اورکوع اوسجده په اشارے کوی ﴿عَلَّمَكُمْ مَّا لَمْ تَكُوْنُوْا تَعْلَمُوْنَ﴾ مراد دَ دے هغه طریقه دَ مانځه ده چه په قرآن کریم کښ اجمالی اوپه احادیثوکښ تفصیلی ذکرشویده۔

[۲۴۰] دا اوولسم حکم دے عدت دَوفات په طریقه دَ احسان سره او دَ دے نه مخکښ (۲۳۴) کښ واجب عدت بیان شوے دے اوپدے ایت کښ احسانی عدت ذکر شوے دے نومنسوخیت نیشته ﴿مَتَاعاً﴾ دانفقے اوسکونت دواړوته شامل دے ﴿فَاِنْ خَرَجْنَ﴾ یعنی روستو دَ واجب عدت(څلورمیاشتے اولس ورځو) نه چه پخپله دَکورنه اوځی کال نه پوره کوی ﴿مَعْرُوْفٍ﴾ نکاح کول وی یا حلال کسب وی یا دَمورپلار ملاقات له اوځی۔

عَلَى الْمُتَّقِيْنَ ﴿٢٤١﴾ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ اٰيٰتِهٖ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿٢٤٢﴾ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ خَرَجُوْا
مِنْ دِيَارِهِمْ وَهُمْ اُلُوْفٌ حَذَرَ الْمَوْتِ فَقَالَ لَهُمُ اللّٰهُ مُوْتُوْا ثُمَّ اَحْيَاهُمْ اِنَّ اللّٰهَ
لَذُوْ فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَشْكُرُوْنَ ﴿٢٤٣﴾ وَقَاتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَاعْلَمُوْٓا
اَنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿٢٤٤﴾ مَنْ ذَا الَّذِيْ يُقْرِضُ اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا فَيُضٰعِفَهٗ لَهٗٓ اَضْعَافًا كَثِيْرَةً

په پرهیزګارانوباندے(٢٤١) دغسے بیانوی اللّٰه تعالیٰ تاسوته احکام خپل دَ دے دپاره چه دَ عقل نه کار واخلئے (٢٤٢) آیا نه ګورے ته هغه کسانوته چه اووتل دَکورونوخپلونه اودوی ژوپه زرګونو دَ وجے ویرے دَ مرګ نه، پس اُویل دوی ته اللّٰه تعالیٰ مړه شے بیائے ژوندی کړل دوی یقیناً اللّٰه تعالیٰ فضل والادے په خلقو باندے اولیکن ډیرخلق شکرنه کوی (٢٤٣) اوجنګ اوکړئے په لار دَ اللّٰه تعالیٰ کښ اوپوهه شئے چه یقیناً اللّٰه تعالیٰ هرڅه آوری په هرڅه پوهیږی (٢٤٤) څوك دے هغه کس چه قرض ورکړی اللّٰه تعالیٰ ته قرض خائسته (په اخلاص) پس زیات به ئے کړی هغه لره په ډیر چنده سره

[٢٤١] دا اتلسم حکم دے دَعاموملقودپاره دامتعه مستحب یا واجب ده په اختلاف دَ علماؤ سره۔ او دا مَتَاعٌ نفقے، سکنیٰ، جوړه جامه او دوپټه وغیره ته شامل دے ﴿بِالْمَعْرُوْفِ﴾ دَ عرف سره مطابق۔ ﴿الْمُتَّقِيْنَ﴾ مراد دَ دے دَ شرك نه بچ کیدونکے یعنی مسلمان دے۔ په (٢٣٦) کښ متعه بالاتفاق واجب ده په خاوند باندے او واجب عمل اداکولوکښ دَ احسان (اخلاص) ضرورت وی اوپه دے ایت کښ دَ متعه په وجوب کښ اختلاف دے نو دَ دے دَ ادا دَپاره دَ تقویٰ (احتیاط) ضرورت دے۔

[٢٤٢] دے ایت کښ ترغیب دے تعمیل دَ احکاموسابقوته۔ اوتاکید دے چه دغه احکام صرف په طوردَ مشورے نه دی بلکه واجبات دی عقل والولره دَ هغے اداکول ضروری دی۔

[٢٤٣] دَ دے ایت نه تر(٢٥٣) پورے څلورم باب دے پس دَ امورو انتظامیونه ترغیب دے جهاد ته په واقعاتودَ بنی اسرائیلو سره اوله واقعه کښ اشاره ده چه دَ مرګ دَ ویرے نه جهادمه پریږ دئے اودویمه واقعه کښ اشاره ده چه دَ ملګرو دَکموالی نه مه ویریږئے اوپه دے کښ دَامیرانتخاب اودَهغه صفتونه اوپه اخرکښ صدق دَ رسول اوحکمت دَقتال ذکردے ﴿اَلَمْ تَرَ﴾ دا لفظ په هغه ځائے کښ استعمالیږی چه دَ یوقصے نه عبرت اخستل ضروری وی ﴿الَّذِيْنَ خَرَجُوْا﴾ په قرآن اوسنت صحیحه سره دَ دے قوم تعیین ثابت نه دے عام قول دا دے چه دا هم بنی اسرائیل وؤحزقیل علیه السلام دوی ته رالیږلے شوے وؤ ﴿الْمَوْتِ﴾ دَ وجے دَ وبا (طاعون) نه یا دَ وجے دَ قتال نه ﴿مُوْتُوْا﴾ دا مرګ په طوردَسزا باندے پشان دَ (٥٥) دے ﴿اَحْيَاهُمْ﴾ په دُعا دَ نبی دَ دوی سره ژوندی شول او دا په دے سورة کښ دریمه واقعه ده دَ دوباره ژوند په دُنیاکښ۔

[٢٤٤] په دے کښ حکم دَ قتال فی سبیل اللّٰه دے۔ عطف دے په قصه دَ ماقبل یعنی دَ مرګ دَ ویرے نه جهاد نه تیخته مه کوے بلکه قتال کوئے په توکل دَ سمیع علیم ذات باندے۔

وَاللّٰهُ يَقْبِضُ وَيَبْصُۜطُ ۪ وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿٢٤٥﴾ اَلَمْ تَرَ اِلَى الْمَلَاِ مِنْۢ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ مِنْۢ بَعْدِ مُوْسٰى ۘ
اِذْ قَالُوْا لِنَبِيٍّ لَّهُمُ ابْعَثْ لَنَا مَلِكًا نُّقَاتِلْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ قَالَ هَلْ عَسَيْتُمْ اِنْ كُتِبَ
عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ اَلَّا تُقَاتِلُوْا ؕ قَالُوْا وَمَا لَنَآ اَلَّا نُقَاتِلَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَقَدْ اُخْرِجْنَا مِنْ دِيَارِنَا
وَاَبْنَآئِنَا ؕ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقِتَالُ تَوَلَّوْا اِلَّا قَلِيْلًا مِّنْهُمْ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِالظّٰلِمِيْنَ ﴿٢٤٦﴾
وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ اِنَّ اللّٰهَ قَدْ بَعَثَ لَكُمْ طَالُوْتَ مَلِكًا ؕ قَالُوْٓا اَنّٰى يَكُوْنُ لَهُ الْمُلْكُ
عَلَيْنَا وَنَحْنُ اَحَقُّ بِالْمُلْكِ مِنْهُ وَلَمْ يُؤْتَ سَعَةً مِّنَ الْمَالِ ؕ قَالَ اِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰىهُ عَلَيْكُمْ

او اللّٰه تعالیٰ تنګوی او فراخه وی اوخاص هغه ته به اوګرځولے شے (٢٤٥) آیاتهٔ نګورے یوے ډلے ته دَ بنی اسرائیلونه روستوډَ موسیٰ(علیه السلام) نه کوم وخت چه دوی اُویل پیغمبرخپل ته مقررکړه ځمونږ دپاره بادشاه چه جنګ اوکړو په لاردَ اللّٰه تعالیٰ کښ اُویل نبی یقیناً نزدے ئے تاسوکه فرض کړے شو په تاسوباندے جنګ کول چه جنګ به اونه کړئے، دوی اُویل: اوځه علردے مونږ لره چه جنګ به اونکړوپه لار دَ اللّٰه تعالیٰ کښ اوحال داچه ویستلے شوی یو مونږدَکورونو خپلونه اوځامنوخپلونه۔ پس هرکله چه فرض کړے شوپه دوی باندے جنګ کول، مخ اوګرځوو دوی مګرلګ کسان دَ دوینه اواللّٰه تعالیٰ پوهه دے په حال دَ ظالمانو (٢٤٦) او اُویل دوی ته پیغمبر(علیه السلام) دَ دوی، یقیناً اللّٰه تعالیٰ مقررکړے دے تاسولره طالوت بادشاه، دوی اُویل: څرنګ کیدے شی دهٔ لره بادشاهی په مونږ باندے اومونږ ډیرحق داریوپه بادشاهئے سره دَ دهٔ نه، اونه ده ورکړے شوے دهٔ ته فرخی دَ مال نه اُویل نبی: یقیناً اللّٰه تعالیٰ غوره والے ورکړے دے دهٔ لره په تاسو باندے

[٢٤٥] قرض هرنیك عمل کولوته وئیلے کیږی لکن اکثر استعمال ئے دَ مال په خرچ کولوکښ دے۔ ﴿قَرْضاً حَسَناً﴾ خرچ کول په اخلاص اوپه طریقه دَ سنت سره دی۔ دا ترغیب دے خرچ کولوته دَپاره دَ جهاد کولو، په لفظ دَ قرض کښ اشاره ده چه دَ دے بدله به ضرور ورکیدے شی۔

[٢٤٦] دا دویمه واقعه ده دپاره دَ ترغیب دَ جهاد اوپدے کښ دلیل دے په ضرورت دَ امیر دپاره دَجهاد۔او سبب دَ وجوب جهاد دا دے چه دَکورونونه ویستلے شی اوبچی ترینه قیدکړیشی اوبل څه مانع نه وؤ ﴿اَلْمَلَاِ﴾ دَ اهل رائے جماعت چه اشراف وی په دنیوی شرافت سره یا دینی شرافت اکثراستعمال ئے په دُنیوی شرافت کښ کیږی او دا قصه دَ موسیٰ(علیه السلام) نه درے سوه کاله روستو دَ شمویل(علیه السلام) په زمانه کښ پیښه شویوه په رامه ښارعلاقه افرائیم شام کښ ﴿مَلِكاً﴾ دلته مراد امیردَ لښکردے ﴿مِنْ دِيَارِنَاوَاَبْنَآئِنَا﴾ دَ فلسطین نه جالوت شرلی وواوځامن ئے ترینه قیدکړی وو ﴿قَلِيْلاً مِّنْهُمْ﴾ مراد ترینه درے سوه دیارلس کسان دی ﴿الظَّالِمِيْنَ﴾ ظلم ئے کړے په جهاد پریخودلو سره۔

وَزَادَهٗ بَسْطَةً فِي الْعِلْمِ وَالْجِسْمِ ؕ وَاللّٰهُ يُؤْتِيْ مُلْكَهٗ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ﴿٢٤٧﴾ وَقَالَ
لَهُمْ نَبِيُّهُمْ اِنَّ اٰيَةَ مُلْكِهٖۤ اَنْ يَّاْتِيَكُمُ التَّابُوْتُ فِيْهِ سَكِيْنَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَبَقِيَّةٌ مِّمَّا تَرَكَ اٰلُ
مُوْسٰى وَاٰلُ هٰرُوْنَ تَحْمِلُهُ الْمَلٰٓئِكَةُ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿٢٤٨﴾ فَلَمَّا
فَصَلَ طَالُوْتُ بِالْجُنُوْدِ ۙ قَالَ اِنَّ اللّٰهَ مُبْتَلِيْكُمْ بِنَهَرٍ ۚ فَمَنْ شَرِبَ مِنْهُ فَلَيْسَ مِنِّيْ ۚ وَمَنْ
لَّمْ يَطْعَمْهُ فَاِنَّهٗ مِنِّيْۤ اِلَّا مَنِ اغْتَرَفَ غُرْفَةً ۢ بِيَدِهٖ ۚ فَشَرِبُوْا مِنْهُ اِلَّا قَلِيْلًا مِّنْهُمْ ؕ فَلَمَّا
جَاوَزَهٗ هُوَ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ ۙ قَالُوْا لَا طَاقَةَ لَنَا الْيَوْمَ بِجَالُوْتَ وَجُنُوْدِهٖ ؕ قَالَ الَّذِيْنَ يَظُنُّوْنَ

اوډیرئے ورکړے ده، دهٔ لره فراخی په علم کښ اوپه همت کښ اواللّٰه تعالیٰ ورکوی بادشاهی خپله هغه چاته چه اوغواړی، اواللّٰه تعالیٰ ډیرفضل والادے پوهه دے په هرڅه باندے (۲٤۷)اواُویل دویته نبی دَ دوی یقیناً نبنه دَ بادشاهیٔ دَ دهٔ داده چه رابه شی تاسوته صندق په هغے کښ دَ زړه تسلی به وی ستاسودَ رب دَ طرف نه اوپاتے شوے (علم) به وی دَ هغے نه چه پریخے دے خاندان دَ موسیٰ(علیه السلام) اوخاندان دَ هارون(علیه السلام) راوړی به هغے لره ملائك یقیناً په دے کښ نښه ده تاسولره که تاسوئے مؤمنان (۲٤۸) پس هرکله چه اووتلو (دَ آبادئے نه) طالوت سره دَ لښکرونه اوے ویل: یقیناً اللّٰه تعالیٰ آزمائښت کوی په تاسوباندے په یونهرسره پس چاچه اوڅکلے دَ هغے نه پس نه دے ځما دَ ملګرونه او چاچه اونه څکلے دَ هغے نه پس یقیناً هغه ځما دَ ملګرونه دے مګر هغه ځوك چه لږ ئے کړویو چونګ په لاس خپل سره پس اوڅکلے دوی دَ هغے نه مګر لږکسانو دَ دوی نه۔ پس هرکله چه پورے وتل دَ هغے نه دے، اوهغه کسان چه پوره ایمان ئے راوړے ډوپه ملګرتیا دَ هغه کښ دوی اُویل: نیشته طاقت مونږ لره نن دَ (مقابلے) دَ جالوت اودَ لښکرودَ هغه، اُویل هغه کسانو چه یقین ئے کړو

[۲٤۷] په دے آیت کښ خبائث دَ بنی اسرائیلو ذکردے چه دَ اللّٰه تعالیٰ او دَ نبی دَ حکم په مقابله کښ ئے خپله عقلی خبره پیش کوله۔ اوبل خبائث دا دے چه دَ دوی په نیز معیاردَ مشرئے نسب اومالداری ده۔ پدے آیت کښ صفات دَ امیر ذکردی (۱) فراخی دَ علم دَ دین او دَسیاست (۲) زیات همت اوشجاعت۔ ﴿طَالُوْتَ﴾ ځوئے دَکش په تورات کښ دهٔ ته ساؤل وئیلے شی ﴿وَنَحْنُ اَحَقُّ بِالْمُلْكِ﴾ په بنی اسرائیلو کښ دوه لوئے سبطه وؤ یوسبط دَنبوت دویم سبط دَ مملکة او طالوت دَ یو دَ هغوی نه نه وؤ بلکه دَ بنیامین په اولاد کښ وؤ ﴿وَالْجِسْمِ﴾ مراد دَ دے خائسته اوقوت والا صورت اوشجاعت دے۔

[۲٤۸] دے آیت کښ اشاره ده چه کله صحیح امیرمنتخب شی نوپه ملك کښ برکات راشی چه لوئے برکت کتاب دَ اللّٰه تعالیٰ اوسنت دَنبی ﷺ دی۔ ﴿التَّابُوْتُ﴾ دا دَ دوی نه مخکے جالوت والو قبضه کړے وؤ او دَ راتللونه روستو (بنا په تاریخ) دَ دوی په قبضه کښ ترسلیمان(علیه السلام) پورے وؤدَ یهودیانوخیال دے چه هغه اوس هم په هیکل سلیمانی کښ دفن دے ﴿سَكِيْنَةٌ﴾ نه مراد کتاب تورات دے ځکه چه کتاب دَ اللّٰه تعالیٰ سبب دپاره دَ تسلیٔ دَ زړه دے ﴿وَبَقِيَّةٌ﴾ نه مراد مسئله دَ جهاد اونور احکام چه په سنت دَ موسیٰ(علیه السلام) اوهارون(علیه السلام) سره ثابت شوی وواوبقیه علم اوعقل ته وئیلے کیږی لکه په سورة هود (۱۱٦،۸٦) کښ

اَنَّهُمْ مُّلٰقُوا اللّٰهِ ۙ كَمْ مِّنْ فِئَةٍ قَلِيْلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيْرَةًۢ بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ مَعَ الصّٰبِرِيْنَ ﴿٢٤٩﴾
وَلَمَّا بَرَزُوْا لِجَالُوْتَ وَجُنُوْدِهٖ قَالُوْا رَبَّنَاۤ اَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا وَّثَبِّتْ اَقْدَامَنَا وَانْصُرْنَا
عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿٢٥٠﴾ فَهَزَمُوْهُمْ بِاِذْنِ اللّٰهِ ۙ وَقَتَلَ دَاوٗدُ جَالُوْتَ وَاٰتٰىهُ اللّٰهُ الْمُلْكَ وَالْحِكْمَةَ
وَعَلَّمَهٗ مِمَّا يَشَآءُ ؕ وَلَوْلَا دَفْعُ اللّٰهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ ۙ لَّفَسَدَتِ الْاَرْضُ وَلٰكِنَّ
اللّٰهَ ذُوْ فَضْلٍ عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴿٢٥١﴾ تِلْكَ اٰيٰتُ اللّٰهِ نَتْلُوْهَا عَلَيْكَ بِالْحَقِّ ؕ وَاِنَّكَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿٢٥٢﴾

چه دوی پیش کیدونکی دی الله تعالیٰ ته ډیر کرته ډله لږه غالب شوے ده په ډله ډیره باندے په حکم د الله تعالیٰ او الله تعالیٰ خاص ملګرے د صبرناکو دے (په مدد کولو سره) (۲۴۹) اوهرکله چه دوی بنکاره شول دپاره د مقابلے د جالوت اود لښکرود هغه دوی اُویل اے ربه ځمونږ: راتوے کړے په مونږ باندے صبر اوکلکے کړے خپے ځمونږ اوغلبه راکړے مونږ له په قوم کافرانو باندے (۲۵۰) پس شکست ورکړو دوی هغوی لره په حکم د الله تعالیٰ سره او اووژلوداؤد(علیه السلام) جالوت لره او ورکړه دهٔ ته الله تعالیٰ بادشاهي اوپوهه د دین (پیغمبری) او اوخودلودهٔ ته د هغه څه نه چه غوختوالله تعالیٰ اوکه نوے دفع کول د الله تعالیٰ خلقو لره بعضولره (کافران) په بعض سره خامخا روانه شوے به وه زمکه (دُنیا) اولیکن الله تعالیٰ فضل والادے په خلقو باندے (۲۵۱) دا آیاتونه د الله تعالیٰ دی لُولُودے لره تاته دپاره د حق بنکاره کولو اویقیناً ته خامخا د پیغمبرانونه ئے (چه راځی دپاره د رفع د فساد) (۲۵۲)

راغلی دی۔ اوکه مراد دے نه عصا اوپیزار اوپګړئے د هغے دواړو وی نو صحیح ده چه دا تبرکات دی۔ یعنی د هغے احترام کول سبب د خیردے د الله تعالیٰ دَطرف نه۔ لیکن په تبرکاتودَ پیغمبرانوتبرکات د بل چا قیاس کول نه دی پکارځکه چه معصوم اوغیر معصوم کښ فرق وی اوبل داچه دَغیرمعصوم دَتبرکاتو دپاره دلیل شرعی نیشته۔ او دا رنګ په داسے تبرکاتوسره د شرك دروازه کولاؤل جائزنه دی۔

[۲۴۹] ﴿اِنَّ اللّٰهَ﴾ اشاره ده چه دا ابتلاء په حکم د نبی سره ده په وحی سره ﴿بِنَهَرٍ﴾ هغے ته دریائے بردن تقریباً دوه سوه میله کښ بهیدلے دے۔ په دے آیت کښ ذکردے چه امیرله پکاردی چه په لښکرد امتحان کوی چه مخلص دَغیرمخلص نه جداشی دارنګ چه د امیرخبره څوك نه منی نوهغه جهاد نشی کولے۔ دارنګ حرام خوړل سبب د بزدلئی دے ځکه چه د چونګ نه زیاتے اوبه په دوی حرام شوے وے اوهغه ﴿قَلِيْلًا﴾ لږکسان درے سوه دیارلس(۳۱۳)ووپه موافق دَشماردَاصحابودَبدر۔الله تعالیٰ ورله فتح ورکړه۔ ﴿يَظُنُّوْنَ﴾ ظن په معنیٰ د یقین اودَعقیدے سره دے۔

[۲۵۰] په دے ایت کښ دُعا د مجاهدینو ذکرده چه په میدان جهاد کښ د الله تعالیٰ نه مدد غوختل ضروری دی۔ اوکوم خلق چه دغه میدان کښ یا علی مدد، یا بابا مدد وائی نوهغوی په تباهئی کښ دی۔ ﴿صَبْرًا﴾ پوخ والے د زړه دے اوهغه سبب ګرځی دپاره دَمضبوط والی د قدمونو۔

[۲۵۱] داؤد علیه السلام ځوئے د ایشیٰ زوئے د عوبید دَطالوت په لښکرکښ وؤاودَهغے نه روستوداؤدعلیه السلام ته نبوت اوبادشاهی دواړه جمع کړے شول ﴿الْحِكْمَةَ﴾ په معنیٰ د نبوت دے ﴿مِمَّا يَشَآءُ﴾ زغرے جوړول

تِلْكَ الرُّسُلُ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ ۘ مِنْهُمْ مَّنْ كَلَّمَ اللّٰهُ وَرَفَعَ بَعْضَهُمْ دَرَجٰتٍ ؕ وَ
اٰتَيْنَا عِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ الْبَيِّنٰتِ وَاَيَّدْنٰهُ بِرُوْحِ الْقُدُسِ ؕ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ مَا اقْتَتَلَ الَّذِيْنَ مِنْۢ
بَعْدِهِمْ مِّنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُمُ الْبَيِّنٰتُ وَلٰكِنِ اخْتَلَفُوْا فَمِنْهُمْ مَّنْ اٰمَنَ وَمِنْهُمْ مَّنْ كَفَرَ ؕ
وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ مَا اقْتَتَلُوْا ۫ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيْدُ ﴿۲۵۳﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اَنْفِقُوْا مِمَّا رَزَقْنٰكُمْ
مِّنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَ يَوْمٌ لَّا بَيْعٌ فِيْهِ وَلَا خُلَّةٌ وَّلَا شَفَاعَةٌ ؕ وَالْكٰفِرُوْنَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿۲۵۴﴾ اَللّٰهُ لَاۤ اِلٰهَ

دغه رسولان غوره کړی دی مونږ بعض دَ دوی په بعضو باندې بعضے دَ دوی نه هغه څوک دی چه خبرے ورسره کړی دی اللّٰه تعالیٰ اوپورته کړی دی بعض دَ دوینه په ډیرو درجوسره، او ورکړیدی مونږعیسیٰ(علیه السلام) څوئی دَ مریم ته ښکاره معجزے، اوکلك کړے ؤومونږ دے په روح پاك سره اوکه غوښتے اللّٰه تعالیٰ جنګ به نوے کړے هغه کسانو چه روستودَ دوی نه ؤوپس دَ هغے نه چه راغلو دوینه ښکاره دلیلونه، اولیکن اختلاف اوکړو دوی، پس بعضِ دَ دوینه هغه څوك ؤوچه ایمان ئے راوړو اوبعضے دَ دوینه هغه څوك ؤوچه کفرئے اوکړو، اوکه غوختے اللّٰه تعالیٰ نوجنګ به نوے کړے دوی، اولیکن اللّٰه تعالیٰ کوی هغه چه اوغواړی (۲۵۳) اے ایمان والوخرچ کوئے دَ هغے نه چه درکړی دی مونږتاسوته مخکښے دَ دینه چه رابه شی ورځ (دَ قیامت) نه به وی خرڅول په هغے کښ اونه دوستانه اونه به سفارش وی (کافرانو لره) اوکافران دوی لوئے ظالمان دی (۲۵٤) اللّٰه تعالیٰ نیشته حقدارَ بندګئے

دپاره دَ جهاد لکه سورة انبیاء (۸۰) او سبا (۱۱) کښ دی۔ اوپدے آیت په ﴿لَوْلَا دَفْعُ اللّٰهِ﴾ سره حکمت دَ جهاد هم ذکردے اودَ هغے تشریح په سورة حج (٤۰) کښ ده۔

[۲۵۲] په دے آیت کښ دَ رسول اللّٰه ﷺ رسالت ذکرشوے دے۔ اودا تیره شوے قصه ذکرکول دلیل دَ رسالت زمونږ دَ نبی ﷺ دے۔

[۲۵۳] دَ ایت ربط دَ مخکښ سره دا دے چه دفع دَ فساد دپاره پیغمبران رالیږلے شوی دی اودَ هغوی دَ درجاتوتفاوت په سبب دَ محبت دَ جهاد دے په تفاوت سره او دے ته تفاضل وئیلے شی دا تفرق نه دے اوتفاضل په انبیاؤ کښ په دلیل سره جائزدے ﴿بَعْضَهُمْ دَرَجَاتٍ﴾ مراد دَ دے بالاتفاق نبی ﷺ دے ﴿وَاٰتَيْنَا عِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ﴾ په دے کښ شان دَ عیسیٰ(علیه السلام)ذکرکوی دَپاره دَ رد دَ یهودیانوچه هغوی ئے رسول نه منی اودَپاره دَ رد په نصاریٰ باندے چه هغوی ورته اله یا دَ اللّٰه څوے وائی ﴿وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ مَا اقْتَتَلَ﴾ دا اقتتال په سبب دَ اختلاف سره وؤ په حق کښ اودا اقتتال ئے دوه کرته ذکرکړو۔ اول دَ هغه چادپاره چه دَ انبیاء علیهم السلام زمانے ته نیزدے وؤ او دویم کرت دَ هغه چا دپاره چه دَ هغوی نه روستو وؤ او دے ایت کښ اشاره ده چه تفاوت دَ درجاتو سبب دَ اقتتال نه دے بلکه اختلاف دَ دین سبب دَ قتال دے۔

[۲۵٤] دَ دے ایت نه ترآخره پورے څلورمه حصه دَ سورة ده۔ په دے کښ مسئله دَ انفاق فی سبیل اللّٰه ده۔ په دے کښ څلور بابونه دی۔ اول باب دَ دے آیت نه تر (۲۶۱) پورے دے په دے کښ اول دعویٰ دَ

اِلَّا هُوَ ۚ اَلْحَیُّ الْقَیُّوْمُ ۚ لَا تَاْخُذُهٗ سِنَةٌ وَّلَا نَوْمٌ ؕ لَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ ؕ مَنْ ذَا
الَّذِیْ یَشْفَعُ عِنْدَهٗۤ اِلَّا بِاِذْنِهٖ ؕ یَعْلَمُ مَا بَیْنَ اَیْدِیْهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ ۚ وَلَا یُحِیْطُوْنَ بِشَیْءٍ مِّنْ
عِلْمِهٖۤ اِلَّا بِمَا شَآءَ ۚ وَسِعَ كُرْسِیُّهُ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضَ ۚ وَلَا یَـُٔوْدُهٗ حِفْظُهُمَا ۚ وَهُوَ الْعَلِیُّ
الْعَظِیْمُ ﴿۲۵۵﴾ لَاۤ اِكْرَاهَ فِی الدِّیْنِ ۙ قَدْ تَّبَیَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَیِّ ۚ فَمَنْ یَّكْفُرْ بِالطَّاغُوْتِ وَیُؤْمِنْۢ بِاللّٰهِ

سیوا دَ هغه نه ژوندے دے (همیشه) انتظام کوونکے دَ ټول عالم، نه رائحی په ده هیڅ غفلت اونه خوب، خاص دَ هغه په اختیارکښ دی هغه څه چه په اسمانونو کښ، او هغه څه چه په زمکه کښ دی، څوك دے هغه کس چه سفارش اوکړی په نیزدَ دهٔ مګرپه اجازت دَ دهٔ، پوهیږی په هغه څه چه مخکښے دَ دوی دی اوهغه څه چه روستودَ دوئ دی اوطاقت نه لری دوی دَ هیڅ څیز دَ علمونودَ هغه نه مګرپه هغه څه چه اوغواړی اللّٰه تعالیٰ ځائے کړی دی کرسئے دَ هغه اسمانونواو زمکے لره اونه ستړے کوی هغه لره ساتنه دَ دے دواړواو دے بره دے لوئے دے (۲۵۵)نیشته زور (په دین منلوکښ په زړه باندے) یقیناً ښه ښکاره شوه حقه لاره دَکمراهئ نه، پس چاچه انکار اوکړو دَ بندګئ دَ ماسوىٰ اللّٰه نه اویقین ئے کووپه اللّٰه تعالیٰ

انفاق فی سبیل اللّٰه ده۔ بیا مسئله دَ توحید په لس دلیلونوسرهٔ دَ صفات الٰهیونه۔ بیادوه ډلے ذ کردی بیا دَهغوی دپاره درے مثالونه دی۔ دَ انفاق نه مراد خرچ کول دی دپاره دَجهاد اودا فرض دے ﴿مِنْ قَبْلِ اَنْ یَّاْتِیَ یَوْمٌ﴾ مراد دَ دے نه روزدَ قیامت ده او وخت دَمرګ هم دَ دے نه مراد کیدے شی﴿لَا بَیْعٌ﴾ په دے کښ رد دے دَ عقیدے دَ یهود اونصاریٰ ﴿وَّلَا خُلَّةٌ وَّلَا شَفَاعَةٌ﴾ دلته نفی دَ دواړه څیزونودپاره دَکافرانو مراد ده په دلیل دَ روستو جملے سره اوپه دلیل دَ سورة زخرف (٦٧)۔

[۲۵۵] دیته اية الکرسی وئیلے کیږی احادیثو کښ دَ دے ډیرفضیلت ذکردے ﴿اَلْقَیُّوْمُ﴾ هغه ذات دے چه انتظام دَ عالم پخپله چلوی او هغه خلق چه عقیده لری چه قطب اوغوثان دی دَ دُنیا انتظام کوی دا دَ شرك عقیده ده او په دے باره کښ چه کوم حدیث راغلے دے هغه موضوعی دے اوحدیث دَ ابدال ضعیف دے﴿مَنْ ذَاالَّذِیْ یَشْفَعُ عِنْدَهٗۤ﴾ شفاعت دَچا دَحاجت دپاره بل چاته منت زاری کول۔دَاللّٰه تعالیٰ په جناب کښ شفاعت په اذن دَ هغه سره دا دے چه ژوندی دَیوبل دپاره دُعا غواړی۔ یا ژوند ے دَمړی دپاره دُعا غواړی دَ دے دواړواذن په شریعت کښ شته دے۔ اوپه آخرت کښ پس دَ اذن نه شفاعت ثابت دے په شرطونو سره او دَ مړی دُعا غوښتل دپاره دَ ژوندی دا په شرع کښ په صحیح دلیل سره ندی ثابت شوی دارنګ دا عقیده ساتل چه معبودمن دون اللّٰه په اللّٰه تعالیٰ باندے جبراً ځمونږحاجت پوره کوی ځکه چه نازولے دے یا مخوریز دے دا دَ مشرکانو عقیده ده او دیته شفاعت قهریه اوشفاعت شرکیه وئیلے کیږی۔ دے آیت ته اعظم آیة اوسیدة ای القرآن وئیلے شی ځکه چه په دے کښ دَ شرك فی الالوهیة اوشرك فی التصرف اوشرك فی العلم اوشرك فی الاسماء والصفات رد دے اودرے صفاتِ سلبیه دَ اللّٰه تعالیٰ دی۔ دارنګ په دے کښ ذکر دَ اللّٰه تعالیٰ په اعتبار دَ ظاهر او ضمیر سره اتلس کرت دے او په دعویٰ دَ توحید باندے لس دلیلونه عقلیه دی ﴿كُرْسِیُّهُ﴾ ظاهری معنیٰ مراد ده اوکیفیت دَهغے باندے اللّٰه تعالیٰ علم لری ﴿اَلْعَلِیُّ﴾ دَ

فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقٰى ۗ لَا انْفِصَامَ لَهَا ؕ وَ اللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿٢٥٦﴾ اَللّٰهُ وَلِيُّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۙ
يُخْرِجُهُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ ؕ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَوْلِيٰٓـُٔهُمُ الطَّاغُوْتُ ۙ يُخْرِجُوْنَهُمْ مِّنَ النُّوْرِ اِلَى
الظُّلُمٰتِ ؕ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿٢٥٧﴾ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْ حَآجَّ اِبْرٰهٖمَ فِيْ
رَبِّهٖٓ اَنْ اٰتٰىهُ اللّٰهُ الْمُلْكَ ۘ اِذْ قَالَ اِبْرٰهٖمُ رَبِّيَ الَّذِيْ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ ۙ قَالَ اَنَا اُحْيٖ وَاُمِيْتُ ؕ
قَالَ اِبْرٰهٖمُ فَاِنَّ اللّٰهَ يَاْتِيْ بِالشَّمْسِ مِنَ الْمَشْرِقِ فَاْتِ بِهَا مِنَ الْمَغْرِبِ فَبُهِتَ الَّذِيْ كَفَرَ ؕ
وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٢٥٨﴾ اَوْ كَالَّذِيْ مَرَّ عَلٰى قَرْيَةٍ وَّهِيَ خَاوِيَةٌ عَلٰى عُرُوْشِهَا ۚ قَالَ

پس یقیناً راتینګه کړه دهٔ کړئے مضبوطه، نیشته شوکیدل دَ هغے او اللّٰه تعالیٰ هرڅه آوری په هرڅه پوهه دے (۲۵۶) اللّٰه تعالیٰ دوست دے دَ ایمان والو، اوباسی دوی لره دَ تیارونه (دَ شکونونه) رنړاته (یقین ته) اوهغه کسان چه کافردی دوستان دَ دوی شیطانان دی، اوباسی دوی لره دَ رنړانه تیاروته دغه کسان اور والا دی دوی به هغے کښ همیشه وی (۲۵۷) آیانه ګورے هغه چاته چه جګړه ئیے اوکړه دَ ابراهیم(علیه السلام) سره په باره دَ رب دَ هغه کښ له دے وجے نه چه ورکړے وه اللّٰه تعالیٰ دهٔ ته بادشاهی کوم وخت چه اُویل ابراهیم(علیه السلام): رب ځما هغه ذات دے چه ژوندی کول کوی اومړه کول کوی، هغه اُویل: ځه ژوندی کول اومړه کول کؤوم۔ اُویل ابرهیم(علیه السلام) پس یقیناً اللّٰه تعالیٰ راولی نمر دَ مشرق نه پس ته راوله هغه دَ مغرب نه، پس حیران کړے شوهغه کس چه کفرئے کړے ؤو اواللّٰه تعالیٰ نه خائی (دلیل) قوم ظالمانو(عنادیانو) ته (۲۵۸) یا تالیدلے پشان دَ هغه چاچه تیر شوپه یو کلی باندے او هغه پرے وتے ؤو په چتونو خپلو باندے، دهٔ اُویل

علونه اخستلے شویدے اوعلوحقیقی مراد ده او کیفیت دَ هغے باندے اللّٰه تعالیٰ عالم دے۔

[۲۵۶] دَ دین نه مراد عقیده دَ زړه ده چه په تیرشوی ایت کښ ذکرشوه اوپه زړه باندے دَچا زورنه چلیږی۔ دے آیت کښ دا مراد دے نوآیت کښ نسخ نیشته دے یعنی په عقیده باندے زور نه چلیږی او اللّٰه تعالیٰ زورنه کوی نو دعوت دَ رشد پکار دے دپاره دَ دے چه دَ طاغوت دَ بندګئے نه خلق بچ شی۔ ﴿بِالطَّاغُوْتِ﴾ دِیرسرکش ته وائی شیطان انسی وی اوکه جنی وی۔ او بله معنیٰ دا ده چه طاغوت عبادت دَ هر معبود من دون اللّٰه ته وائی ځکه چه هغه سبب دَ سرکشئ دے۔ او په دے آیت کښ دَ دریمے ډلے ذکرئے پریخودلے دے مقایسةً ﴿بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقٰى﴾ دا مثال دَ توحید دے۔

[۲۵۷] تیرشوی آیت کښ دوه قسمه خلقوته اشاره وه نو پدے آیت کښ دَ هغه دواړو حال بیانیږی۔ ﴿الظُّلُمٰتِ﴾ نه مراد دینی تیرے دی، شرك، کفر، بدعات، شکونه وغیره ﴿النُّوْرِ﴾ نه مراد دَ دین رنړا ده۔ توحید، ایمان، سنت، یقین وغیره ﴿يُخْرِجُهُمْ مِّنَ الظُّلُمَاتِ﴾ دا په باره دَ هغه چاکښ دے چه مخکے په کفر اوشرك ووُ او ایمان ئے راوړے دے یامراد دَ اخراج نه بچ ساتل دی۔ دارنګ ﴿يُخْرِجُوْنَهُمْ﴾ دَ دے نه مراد مرتدین دی یا مراد د دے دعوت ورکول دی په وسوسے اوتلبیس سره۔

[۲۵۸] دا واقعه دَ دویم قسم دپاره مثال دے چه نمروذ په ضد کښ کلك ووُ۔ طاغوت ئیے ملګرے ووُ۔

اَنّٰى يُحْيٖ هٰذِهِ اللّٰهُ بَعْدَ مَوْتِهَا ۚ فَاَمَاتَهُ اللّٰهُ مِائَةَ عَامٍ ثُمَّ بَعَثَهٗ ؕ قَالَ كَمْ لَبِثْتَ ؕ قَالَ
لَبِثْتُ يَوْمًا اَوْ بَعْضَ يَوْمٍ ؕ قَالَ بَلْ لَّبِثْتَ مِائَةَ عَامٍ فَانْظُرْ اِلٰى طَعَامِكَ وَشَرَابِكَ لَمْ يَتَسَنَّهْ ۚ
وَانْظُرْ اِلٰى حِمَارِكَ وَلِنَجْعَلَكَ اٰيَةً لِّلنَّاسِ وَانْظُرْ اِلَى الْعِظَامِ كَيْفَ نُنْشِزُهَا ثُمَّ نَكْسُوْهَا لَحْمًا ؕ
فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهٗ ۙ قَالَ اَعْلَمُ اَنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيْرٌ ﴿٢٥٩﴾ وَاِذْ قَالَ اِبْرٰهٖمُ رَبِّ اَرِنِيْ كَيْفَ

څنګه به ژوندے کوی داکلی (والا) الله تعالیٰ پس دَ مرګ نه، پس مړ کړو (او اوساتو) الله تعالیٰ دهٔ لره سل کاله بیائے ژوندے کړو، اُویل الله تعالیٰ څومره حصارشوے ئے ته؟ هغه وئیل: حصارشوے یم یو ورځ بلکه څه حصه دَ ورځے، اُویل الله تعالیٰ بلکه حصارشوے ئے تهٔ سل کاله پس اوګوره خوراك خپل ته اوسکاك خپل ته نه دے خراب شوے۔ او اوګوره خر خپل ته (چه دلیل پرے اونیسے) او دے دپاره چه مونږ تااوګرځوُ نمونه دپاره دَ خلقو او اوګوره هډوکوته چه څنګه خوځوو مونږ دا بیا آغوندوُو هغے ته غوښه پس هر کله چه ښکاره شوه دهٔ ته، دهٔ اُویل (په لیدلوسره) پوهه شوم یقیناً الله تعالیٰ په هرځیز باندے قدرت لرونکے دے (۲۵۹)او کوم وخت چه اُویل ابرهیم(علیه السلام)اے ربه ځما اوخایه ماته چه څرنګ به

نودَ تیرَونه اونوتلو په دعوت دَ ابراهیم علیه السلام سره، نمروذ دا دعویٰ کړے وه چه دُنیاکښ تصرف کوؤنکے څه یم یعنی احیاء اماتت ځما په اختیارکښ دے اوابراهیم علیه السلام دعویٰ اوکړه چه تصرف دَ ژوند اومرګ دَ الله تعالیٰ سره دے نوابراهیم علیه السلام دلیل پیش کړو که ستا تصرف وی نو په نَمرکښ برعکس تصرف اوکړه نوچپ اوحیران شو۔ دهٔ دا دعویٰ نشوه کولے چه نمر دَ مشرق نه څه راخیژوم ځکه چه هغه وخت کښ دَ دهٔ نه مشران خلق موجود وؤ نو هغوی به پټ یا ښکاره دَ دهٔ تکذیب کړے وے

فائده: ﴿فَإِنَّ اللّٰهَ يَأْتِيْ﴾ دا دلیل دے په رد دَ قول دَ نمروذ کښ چه هغه په اَنَااُحْيِ وَاُمِيْتُ، سره دعویٰ دَ تصرف اوکړه نو جواب اوشو چه ته په نمرکښ محسوسی تصرف نه شے کولے نو دَ ژوند اومرګ معنوی تصرف به څرنګ اوکړے؟ په دے کښ دَ یو دلیل نه انتقال بل دلیل ته نیشته ځکه هغه دَ مناظرے دَ قواعدونه خلاف دے۔

[۲۵۹] دا واقعه دَ اول قسم مثال دے چه الله تعالیٰ ایمان والاپه تیرَوکښ نه پاتے کوی دَ دے وجے نه عزیرعلیه السلام ته ئے دَ هغه دَ سوال جواب ورکړو۔ دَ هغه سوال مطلب داوؤچه دَ دوباره ژوندی کولوطریقه به څنګه وی آیا دَ دُنیا دَپیدائش پشان به وی اوکه نه؟ دَجواب حاصل دا دے چه دوباره ژوندبه داسے وی چه په کوم حالت کښ مړشوے وی نوپه هغه حالت به راژوندے کیږی دَهغے مثال ئے په حماراودَ هغه په هډوکوسره ښکاره کړو۔ او روح دَانسان به نه فناکیږی دَهغے مثال طعام اوشراب دی چه الله تعالیٰ په خپل قدرت سره محفوظ اوساتل۔

فائده : پدے آیت کښ ښکاره دلیل دے چه څوك مړه شی که انبیاء وی اوکه بزرګان وی نوهغوی دَ دُنیا دَ حال نه خبرنه دی او نه دَ دُنیا والوخبرے آوری اونه وینی۔ دارنګ په دے کښ دلیل دے په قدرت دَ الله تعالیٰ په دوباره ژوندی کولو اودَ طعام وشراب په محفوظ ساتلو او دَ اَجزاء دَمړوپه دوباره ژوندی کولو باندے۔

تُحْيِ الْمَوْتٰى ؕ قَالَ اَوَلَمْ تُؤْمِنْ ؕ قَالَ بَلٰى وَلٰكِنْ لِّيَطْمَئِنَّ قَلْبِيْ ؕ قَالَ فَخُذْ اَرْبَعَةً مِّنَ الطَّيْرِ
فَصُرْهُنَّ اِلَيْكَ ثُمَّ اجْعَلْ عَلٰى كُلِّ جَبَلٍ مِّنْهُنَّ جُزْءًا ثُمَّ ادْعُهُنَّ يَاْتِيْنَكَ سَعْيًا ؕ وَاعْلَمْ اَنَّ اللّٰهَ
عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿٢٦٠﴾ مَثَلُ الَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ كَمَثَلِ حَبَّةٍ اَنْۢبَتَتْ سَبْعَ سَنَابِلَ ع ٣٣
فِيْ كُلِّ سُنْۢبُلَةٍ مِّائَةُ حَبَّةٍ ؕ وَاللّٰهُ يُضٰعِفُ لِمَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ﴿٢٦١﴾ اَلَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ
اَمْوَالَهُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ثُمَّ لَا يُتْبِعُوْنَ مَآ اَنْفَقُوْا مَنًّا وَّلَآ اَذًى ۙ لَّهُمْ اَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ ۚ وَلَا

ژوندی کوے مړولره؟ اُویل اللّٰه تعالیٰ، آیا تهٔ یقین نه لرے؟ اُویل هغه ولے نه کوم یقین، لیکن دَ دے دپاره چه کلك شی زړه ځما، اُویل: (اللّٰه تعالیٰ) پس اونیسه ځلورد مرغانونه پس ټکړے کړه دوی (اویوځائے کړه) دَ ځان سره بیاکیده په هرغره باندے دَ دوی نه یوه ټکړه، بیا آواز اوکړه دویته راځی به تاته منډه وهونکی اوپوهه شه یقیناً اللّٰه تعالیٰ زوراوردے حکمتونو والادے (٢٦٠) مثال (دَ منافقانو) دَ هغه کسانوچه خرچ کوی مالونه خپل په لاردَ اللّٰه تعالیٰ کښ په شان دَ یودانے دے چه زرغون کړی اووه وړی په هر وړی کښ سل دانے وی۔ اواللّٰه تعالیٰ زیاتوی هغه چاڅه چه اوغواړی، اواللّٰه تعالیٰ ډیرفضل والادے پوهه دے په هرڅه باندے (٢٦١) هغه کسان چه خرچ کوی مالونه خپل په لاردَ اللّٰه تعالیٰ کښ بیانه کوی په هغه پسے چه خیرات کړی زبادنه اونه تنګول۔ دپاره دَ دوی ثواب دَ دوی دے په نیزدَ رب دَ دوی اونه به وی

[٢٦٠] دا دریمه واقعه ده دپاره دَحال دَ ایمان والوچه دَابراهیمؑ دَ سوال جواب ئے ورکړو۔ اواطمینان ئے ورله پیداکړو۔ په دے کښ هم دَ سوال او جواب هغه مطلب دے چه مخکښ تیرشو۔ شك دَ ابراهیمؑ نه وو۔ لیکن دَ علم الیقین نه پس ئے عین الیقین (مشاهده) طلب کړو دپاره دَ زیاتے تسلئ۔ آیت کښ اشاره ده چه دَ ژوندی ځلور طبائع مختلفه جدا جدا شی نو اللّٰه تعالیٰ دَ هغے په یوځائے کولو قدرت لری۔ دارنګ اَجزاء دَ مړو چه دَ یوبل سره خلط ملط شی نوهم اللّٰه تعالیٰ دَ هغے په جمع کولواو ژوندی کولو قادردے۔

[٢٦١] دَ دے آیت نه تر(٢٧٤) پورے دویم باب دے په دے کښ ځلورمثالونه دی۔ او پنځه شرطونه دپاره دَ قبولیت دَ انفاق فی سبیل اللّٰه اواووه ضروری خبرے دی۔ په دے آیت کښ اول مثال دے دپاره دَ هغه چاچه خرچ کوی په لار دَ اللّٰه تعالیٰ کښ مطلب دا دے چه په جهادکښ مال خرچ کولو باندے دَ اووه سوونه ثواب شروع کیږی او دَ زیات دپاره څه حد نیشته دَ دانے مثال ئے ځکه ورکړو چه دَ غلے فائدے ډیرے دی او عامے دی تمام زنده سروته دَ هغے فائدے رسی۔ دارنګ دَجهاد اودعوت دَجاری ساتلوفائدے هم تمام خلقوته شامل دی اوهغه فائدے مجموعی هم دی۔ نو دَ هغے مثال ئے دَ وړی سره ورکړو۔ او انفرادی هم دی اومثال ئے دَ جدا جدا دا نو ورکړو۔ دارنګ دانه په زرغون کیدلوکښ اوبوته اوځرے زمکے ته محتاج ده دارنګ انفاق په داسے داعی طالب دَ علم پکار دے چه په قرآن اوسنت سره تربیت کیږی دَ هغه نه لګ جماعت فائده واخلی بیا هغوی په دنیا کښ تقسیم شی او دَ هریونه دینی فائدے

خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿٢٦٢﴾ قَوْلٌ مَّعْرُوْفٌ وَّمَغْفِرَةٌ خَيْرٌ مِّنْ صَدَقَةٍ يَّتْبَعُهَآ اَذًى ؕ وَاللّٰهُ
غَنِيٌّ حَلِيْمٌ ﴿٢٦٣﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُبْطِلُوْا صَدَقٰتِكُمْ بِالْمَنِّ وَالْاَذٰى ۙ كَالَّذِيْ يُنْفِقُ
مَالَهٗ رِئَآءَ النَّاسِ وَلَا يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ؕ فَمَثَلُهٗ كَمَثَلِ صَفْوَانٍ عَلَيْهِ تُرَابٌ فَاَصَابَهٗ وَابِلٌ
فَتَرَكَهٗ صَلْدًا ؕ لَا يَقْدِرُوْنَ عَلٰى شَيْءٍ مِّمَّا كَسَبُوْا ؕ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿٢٦٤﴾ وَمَثَلُ

هیڅ ویره په دوی باندے اونه به دوی غمژن وی (٢٦٢) وینا ښهٔ اوبخنه غوره ده دَ هغه خیرات نه چه رائحی په هغے پسے تنګول، اوالله تعالیٰ بے حاجته دے صبرناك دے (٢٦٣) اے ایمان والو: مه بربادوئے (ثواب) دَخیراتونو خپلوپه زبادنه او تنګولوسره په شان دَ هغه چاچه خرچ کوی مال خپل دپاره دَ خودنے دَ خلقو، اوایمان نه لری په الله تعالیٰ اوپه ورځ روستنئے پس مثال دَ دهٔ په شان دَ هموارے ګټے دے چه په هغے باندے خاورے وی پس اورسی هغے ته شبے دَ باران پس پریږدی هغے لره صفا وس برنښی دَ دوی په هیڅ ثواب باندے دَ هغه عمل نه چه دوی کړے وی اوالله تعالیٰ ثواب نه ورکوی قوم کافرانوته (٢٦٤) اومثال (دَ صدقاتو)

خوریږی ترغیرانتها پورے۔

[٢٦٢] په دے آیت کښ ئے دوه شرطونه سلبی بیان کړل چه ﴿مَنًّا﴾ مَنُ به نه وی اواذی به نه وی ځکه چه په دے دواړو کارونوسره اخلاص ته نقصان رسی او اخلاص شرط دے۔ مَنُ اواذی کښ فرق دا دے چه چاله صدقه ورکړی اوهغه کس ته اونورو خلقوته ذکرکوی دا مَن دے اوچه په هغه باندے لوئی کوی او دَ هغه نه خدمت اخلی نو دا اذی ده۔

[٢٦٣] په دے کښ نقصان دَ اذی ذکرکوی په مقابل دَ ښه اخلاقو کښ اوپه اذی باندے مَنُ هم قیاس دے۔ ﴿قَوْلٌ مَّعْرُوْفٌ﴾ یعنی سائل ته نرمه خبره کول په عذر پیش کولو کښ اوهرکله چه هغه په سوال کښ سخته لهجه استعمال کړی نو دَ هغے ﴿مَغْفِرَةٌ﴾ بخښش کول اګرچه صدقه نه ورکوی افضل دے دَصدقے سرهٔ دَ مَنُ او اذی نه ﴿غَنِيٌّ﴾ یعنی الله تعالیٰ خو انفاق صدقه ځان دپاره نه غواړی بلکه په دے کښ ستاسوفائده ده۔

[٢٦٤] په دے آیت کښ دویم مثال دے هغه چاله چه خرچ کوی خو په غلط طریقه سره۔ اوپه دے کښ دَ مثال دپاره مثال دے۔ مطلب دا دے دَ مَن او اذی مثال ئے په ریاء سره ورکړو په بربادئے دَثواب کښ او دَریاء مثال ئے دَ صافے ګټے سره پیش کړو چه په هغے باندے هیڅ کرونده نه کیږی۔ دارنګ دَ ریاء کارنه هم چاته فائدے صحیح نه رسی۔او ستائنے دَ خلقو (چه دَ ریا مقصد دے) پشان دَ خاورو بے فائدے اوبے کاره ځیزدے اودَحساب دَ آخرت په وخت کښ دے بے ثوابه پاتے کیدل مثال دَ وابل دے چه ګټه صفا پریږدی ﴿وَلَا يُؤْمِنُ﴾ اشاره ده چه منافق اعتقادی وی یامراد داچه یقین په ثواب باندے نه لری۔ ﴿لَا يَقْدِرُوْنَ﴾ مراد داچه دَ دے عمل هیڅ ثواب ورته نه ملاویږی ﴿لَا يَهْدِي﴾ مراد دے نه ثواب ورکول دی یا په زورسره هدایت ورکول دی۔

الَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمُ ابْتِغَآءَ مَرْضَاتِ اللّٰهِ وَتَثْبِيْتًا مِّنْ اَنْفُسِهِمْ كَمَثَلِ جَنَّةٍۭ بِرَبْوَةٍ اَصَابَهَا
وَابِلٌ فَاٰتَتْ اُكُلَهَا ضِعْفَيْنِ ۚ فَاِنْ لَّمْ يُصِبْهَا وَابِلٌ فَطَلٌّ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿٢٦٥﴾ اَيَوَدُّ
اَحَدُكُمْ اَنْ تَكُوْنَ لَهٗ جَنَّةٌ مِّنْ نَّخِيْلٍ وَّاَعْنَابٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۙ لَهٗ فِيْهَا مِنْ كُلِّ
الثَّمَرٰتِ ۙ وَاَصَابَهُ الْكِبَرُ وَلَهٗ ذُرِّيَّةٌ ضُعَفَآءُ ۪ فَاَصَابَهَآ اِعْصَارٌ فِيْهِ نَارٌ فَاحْتَرَقَتْ ؕ كَذٰلِكَ
يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ الْاٰيٰتِ لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُوْنَ ﴿٢٦٦﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اَنْفِقُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا ع ٣٠

دَ هغه کسانو چه خرچ کوی مالونه خپل دپاره دَ طلب دَ رضا دَ اللّٰه تعالیٰ اوپه کلکوالی دَ نفسونودَ دوی پشان دَ یوباغ دے په څربه زمکه چه اورسی هغے ته ډیر باران پس ورکوی میوے خپلے ډیرے زیاتے پس که اونه رسی هغے ته ډیر باران پس لګ باران کافی دے اواللّٰه تعالیٰ ستاسوعملونه وینی (۲٦٥) آیا خوښوی یوتن ستاسوچه وی دِ هغه لره باغ دَکجورو اوانګورونه بهیری لاندے دَ هغے ولے دهٔ لره په هغے کښ دَ هرقسم میؤونه وی او رسیدلے وی ده ته بوډا والے اودهٔ لره بچی وی کمزوری، پس اورسی هغے ته تیزه سیلئے چه په هغے کښ اوروی پس اوسوزئ دغسے بیانوی اللّٰه تعالیٰ تاسوته آیاتونه دَ مثالونودَ دے دپاره چه فکر اوکړئے (۲٦٦)اے ایمان والو: خرچ کوئے دَکره هغه مال نه

[۲٦٥] په دے کښ دریم مثال دے دپاره دَصحیح خرچ کولو۔ دامثال دَهغه چادے چه مال په صحیح مصرف کښ ورکوی بغیردَجهاد اودعوت نه(نومثال کښ تکرارنه راځی) اوپدے کښ دوه شرطونه ثبوتی ذکرکوی (۱) طلب دَ رضا دَاللّٰه تعالیٰ طلب دَ دُنیا یا ریاء ئے مقصد نه وی (۲) دَ زړه پخول په ایمان باندے ځکه چه په صدقے سره ایمان پخیږی۔ نودَ دهٔ دَزړه مثال ئے دَ ربوه سره ورکړو لکه څنګ چه هغه زمکه څربه اومړه ده دارنګ دَ دهٔ زړه په ایمان سره ډك دے او دَ دهٔ اخلاص ئے مشابه کړو دَ باغ سره چه هروخت میوے ورکوی اودَ ډیرانفاق مثال دے وابل اودَلګ انفاق مثال دے طل، اودارنګ چه دا دواړه شرطونه کامله درجه کښ وی نو دَوابل مثال دے اوچه په کمه درجه کښ وی نو دَ طل مثال دے خامخا فائده ورکوی یا داچه یوشرط وی نوطل دے اوچه دواړه وی نووابل دے﴿تَثْبِيْتًا مِّنْ اَنْفُسِهِمْ﴾ یوه معنیٰ دا ده چه په انفاق کولوسره ځان په صحیح اعمالو باندے کلکوی دویمه معنیٰ داده چه په ثواب دَ اللّٰه تعالیٰ یقین ساتی۔

[۲٦٦] په دے آیت کښ څلورم مثال دے دپاره دَ بے ځایه خرچ کوونکی اوظالم۔ اومطلب ئے دا دے چه لکه دَ یوسړی باغ دے او دَ میوے هره ونه پکښ وی دے په هغے کښ خوش حاله دے دارنګ څوك چه په شرك بدعت اوفسق کښ خرچ کوی او څه خلق ئے صفتونه کوی او دے خوشحاله وی اولکه څنګه چه هغه سړے بوډا دے نوره ګټه نشی کولے۔ دارنګ دے هم دَنیك کارونونه محرومه دے او لکه څنګ چه دَ هغه بچی کمزوری دی چه دَ دهٔ نه خرچ غواړی داسے دا سړے ظالم دے دَ خلقو حقونه ئے خوړلی دی هغوی به ترینه غواړی او لکه څنګ چه دَهغه باغ په سیلئ سره تباه شونو دارنګ چه دے پداسے حال کښ مړشی بغیردَ توبے نه نوډیر پریشان اوغمژن به وی ۔دارنګ دا مثال دَ هغه چا دے چه مخکښ ئے نیك عمل کوؤ بیا ئے بدعمل دَشرك اوبدعت اوکړو نوهغه نیك عمل ئے بربادشو۔

كَسَبْتُمْ وَمِمَّآ اَخْرَجْنَا لَكُمْ مِّنَ الْاَرْضِ ۖ وَلَا تَيَمَّمُوا الْخَبِيْثَ مِنْهُ تُنْفِقُوْنَ وَلَسْتُمْ بِاٰخِذِيْهِ
اِلَّآ اَنْ تُغْمِضُوْا فِيْهِ ۭ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ حَمِيْدٌ ﴿٢٦٧﴾ اَلشَّيْطٰنُ يَعِدُكُمُ الْفَقْرَ وَيَاْمُرُكُمْ
بِالْفَحْشَاۗءِ ۚ وَاللّٰهُ يَعِدُكُمْ مَّغْفِرَةً مِّنْهُ وَفَضْلًا ۭ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ﴿٢٦٨﴾ يُّؤْتِي الْحِكْمَةَ مَنْ يَّشَاۗءُ ۚ
وَمَنْ يُّؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ اُوْتِيَ خَيْرًا كَثِيْرًا ۭ وَمَا يَذَّكَّرُ اِلَّآ اُولُوا الْاَلْبَابِ ﴿٢٦٩﴾ وَمَآ اَنْفَقْتُمْ
مِّنْ نَّفَقَةٍ اَوْ نَذَرْتُمْ مِّنْ نَّذْرٍ فَاِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُهٗ ۭ وَمَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ اَنْصَارٍ ﴿٢٧٠﴾ اِنْ تُبْدُوا

چه تاسو کتلے وی، اودَ هغے نه چه راویستلے دے مونږ ستاسو دپاره دَ زمکے نه اوقصد مه کوئے دَ ردی مال دَ دے نه چه خرچ کوئے اونه ئے تاسو اغستونکی دَ هغے مگرچه سترګے پتے کړئے په هغے کښ، اوپوهه شئے یقیناً اللّٰه تعالیٰ بے حاجته دے ستائلے شوے دے (٢٦٧) شیطان ویروی تاسو دَ فقیرئے نه اوحکم کوی تاسوته (په وسوسے) په شومتیا سره اواللّٰه تعالیٰ وعده کوی تاسوسره دَ بخنے دَ طرف خپل نه اودَ زیات والی اواللّٰه تعالیٰ فراخ فضل والادے عالم دے په هرڅه (٢٦٨) ورکوی پوهه دَ دین هغه چا ته چه اوغواړی، اوهغه چاله چه ورکړے شوه پوهه دَ دین پس یقیناً ورکړے شو دهٗ ته خیر ډیراونصیحت نه آخلی مګر صاف عقل والا (٢٦٩) اوهغه چه تاسوخرچ کوئے ځه خرچه یامنخته کوئے تاسوځه منخته پس یقیناً اللّٰه تعالیٰ پوهه دے په هغے اونیشته ظالمانو لره ځوك امدادیان (٢٧٠) که ښکاره ورکوئے تاسو

[٢٦٧] په دے آیت کښ پنځم شرط دے چه کره مال خیرات کوئے۔ اودے آیت کښ سرمایه دارو او جاګیردارودواړوته خطاب دے ﴿مَا كَسَبْتُمْ﴾ مراد دَ دے نه تجارت ملازمت صنعت کاری کول دی چه دَ هغے په مال کښ زکوٰة فرض دے او ﴿مِمَّآ اَخْرَجْنَا﴾ یعنی په فصلونواومیوؤ کښ عشریانیم عشرفرض دے ﴿الْخَبِيْثَ﴾ مراد دَ دے ردی څیزدے ﴿وَلَسْتُمْ بِاٰخِذِيْهِ﴾ داتفسیردَخبیث دے۔

[٢٦٨] دَ دے آیت نه اوؤضروری خبرے ذکرکوی چه متعلق دی دَ انفاق سره اوله خبره دا ده چه دَ اللّٰه تعالیٰ دَحکم اودَ شیطان دَ وسوسے په مینځ کښ فرق اوکړئ ﴿بِالْفَحْشَاۗءِ﴾ فحشاء هرقول اوفعل قبیح ته وئیلے شی چه بدی ئے ښکاره وی اودلته مراد بخل کول دی ﴿يَعِدُكُمُ﴾ وعده دَ شیطان دَ طرف نه ویره ورکول دی اودَاللّٰه تعالیٰ دَطرف نه وعده کول دی ﴿مَّغْفِرَةً﴾ دَ آخرت سره تعلق لری او ﴿فَضْلًا﴾ دَ دُنیا سره تعلق لری چه په مال کښ به ئے برکت واچولے شی۔

[٢٦٩] دا دویمه خبره ده چه دَحکمت حاصل کولوکوشش پکاردے۔ دَحکمت ډیرے معانے دی۔ دَ هغه معانوخلاصه دا ده چه دَقرآن کریم پوهه اودَ دین داسے علم اوکړئے چه په هغے سره دَحق اوباطل فرق کولے شئ اودَالهام الرحمٰن اووسوسے دَ شیطان فرق کیږی۔ اودَ دے تائید په حدیث صحیح کښ دے چه: مَنْ يُّرِدِ اللّٰهُ بِهٖ خَيْرًا يُّفَقِّهْهُ فِي الدِّيْنِ (هغه ځوك چه اللّٰه تعالیٰ دَ ډیرخیر اراده اوکړی نوپه دین کښ ورله ښه پوهه ورکړی)

[٢٧٠] دے آیت کښ دریمه خبره ده چه صدقه ورکول په غیرمعین طریقے سره وی اوکه په معین طریقے سره وی چه هغے ته نذروائی۔ اوظالمانونه مراد هغه دی چه خرچ بے ځایه کوی یا نذرَ غیراللّٰه په

الصَّدَقٰتِ فَنِعِمَّا هِيَ ۚ وَاِنْ تُخْفُوْهَا وَتُؤْتُوْهَا الْفُقَرَآءَ فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۭ وَيُكَفِّرُ عَنْكُمْ مِّنْ سَيِّاٰتِكُمْ ۭ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ﴿٢٧١﴾ لَيْسَ عَلَيْكَ هُدٰىهُمْ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَهْدِيْ مَنْ يَّشَاۗءُ ۭ وَمَا تُنْفِقُوْا مِنْ خَيْرٍ فَلِاَنْفُسِكُمْ ۭ وَمَا تُنْفِقُوْنَ اِلَّا ابْتِغَاۗءَ وَجْهِ اللّٰهِ ۭ وَمَا تُنْفِقُوْا مِنْ خَيْرٍ يُّوَفَّ اِلَيْكُمْ وَاَنْتُمْ لَا تُظْلَمُوْنَ ﴿٢٧٢﴾ لِلْفُقَرَاۗءِ الَّذِيْنَ اُحْصِرُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ ضَرْبًا فِي الْاَرْضِ ۡ يَحْسَبُهُمُ الْجَاهِلُ اَغْنِيَاۗءَ مِنَ التَّعَفُّفِ ۚ تَعْرِفُهُمْ بِسِيْمٰهُمْ ۚ لَا يَسْـَٔـلُوْنَ النَّاسَ

صدقے پس ښه دی هغه، اوکه پټے ورکوئے هغه اوورکوئے ئے فقیرانوته پس داکار ډیر فائده مند دے تاسولره اولرے به کړی ستاسونه څه بدئ ستاسو (ګناهونه اوسختئے) اوالله تعالیٰ ستاسوپه عملونو خبردار دے (۲۷۱) نیشته ستاپه ذمه باندے سمول دَ دوی اولیکن الله تعالیٰ په سمه لار روانه وی چاڅه چه اوغواړی او هغه چه خرچ کوئے تاسوڅه مال پس دپاره دَ فائدے دَ ځانونوستاسودے اوخرچ نه کوئے تاسومګردپاره دَ طلب دَ مخ دَ الله تعالیٰ او هغه چه خرچ کوئے تاسوڅه مال پوره به درکړے شی بدله دَ هغے تاسوته اوپه تاسوبه ظلم نشی کیدے (۲۷۲) (صدقات) دپاره دَ محتاجودی چه هغوی بندکړے شوی دی په لاردَ الله تعالیٰ کښ طاقت نه لری دَ سفرکولو (دپاره دَ مال ګټلو) په زمکه کښ ګمان کوی په دوی باندے ناخبر کس مال داران دَ وجے دَ بچ کیدلودَ ځرامونه پیژنے ته دوی لره په نښودَ دوی سوال نه کوی دوی دَ خلقونه

نوم باندے کوی ﴿فَاِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُهٗ﴾ په دے کښ اشاره ده جزا اوبدلے ورکولوته۔

[۲۷۱] دے آیت کښ ځلورمه خبره ده یعنی طریقه دَ ورکولودَصدقے بښکاره ورکول اوپټه ورکول۔ اودَ هغے دَ صحیح مصرف دوه فائدے ذکردی دَبښکاره صدقه ورکولواوپټ ورکولودَپاره مناسب اوقات اوڅایونه دی ﴿وَتُؤْتُوْهَا الْفُقَرَاۗءَ﴾ فرضی صدقه خو دَ فقراء دَپاره خاص ده اوغیر فرضی فقراء ته ورکول غوره دی او نوروته هم جائز دی۔

[۲۷۲] دے کښ پنځمه خبره ده یعنی څوك چه په چا باندے دَ دے دپاره خرچ کوی چه دے دین کښ داخل شی لیکن هرکله چه هغه اونه منی نو بیا په هغه باندے خرچ کول پریږدی اوخفه شی چه دایے فائدے محنت دے نو الله تعالیٰ دے آیت کښ تسلی ورکوی چه بیان دَحق کوئے اوخرچ کوئے خفګان مه کوئے ځکه چه په لار باندے روانول دَ الله تعالیٰ اختیاردے۔ تاسوته ضرور اجرملاویږی ﴿وَمَاتُنْفِقُوْا مِنْ خَيْرٍ فَلِاَنْفُسِكُمْ﴾ یعنی دَ هرچا صدقه دَهغه دَپاره خاص وی بل چاته دَ هغے ثواب نه ملاویږی څو پورے چه په شرعی طریقے سره هغه ته بخلے نه وی اوپه دے پسے دویمه جمله کښ شرط ذَا نفاق ذکرکوی چه ابتغاء وجه الله ده اوپه دریمه جمله کښ ئے دَ پوره اجر ورکولو وعده ورکړے ده۔

اِلْحَافًا ؕ وَمَا تُنْفِقُوْا مِنْ خَيْرٍ فَاِنَّ اللّٰهَ بِهٖ عَلِيْمٌ ﴿٢٧٣﴾ اَلَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ بِالَّيْلِ وَالنَّهَارِ
سِرًّا وَّ عَلَانِيَةً فَلَهُمْ اَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ ۚ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿٢٧٤﴾ اَلَّذِيْنَ يَاْكُلُوْنَ
الرِّبٰوا لَا يَقُوْمُوْنَ اِلَّا كَمَا يَقُوْمُ الَّذِيْ يَتَخَبَّطُهُ الشَّيْطٰنُ مِنَ الْمَسِّ ؕ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَالُوْٓا اِنَّمَا
الْبَيْعُ مِثْلُ الرِّبٰوا ۘ وَاَحَلَّ اللّٰهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبٰوا ؕ فَمَنْ جَآءَهٗ مَوْعِظَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ فَانْتَهٰى فَلَهٗ
مَا سَلَفَ ؕ وَاَمْرُهٗٓ اِلَى اللّٰهِ ؕ وَمَنْ عَادَ فَاُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿٢٧٥﴾ يَمْحَقُ اللّٰهُ

بے ضرورته، اوهغه چه خرچ کوئے تاسوځه مال پس یقیناً اللّٰه تعالیٰ په هغے باندے ښه پوهه دے (۲۷۳) هغه کسان چه خرچ کوی مالونه خپل دَ شپے او دَ ورځے پټ اوښکاره پس دوی لره ثواب دَ عمل دَ دوی دے په نیزدَ رب دَ دوی اونه به وی هیڅ ویره په دوی باندے اونه به دوی غمژن کیږی (۲۷٤) هغه کسان چه خوری سود نه به پاسیږی (دَ قبرونونه) مګرپشان دَ پاسیدلودَ هغه چا چه ګډوډ کړے وی دهٔ لره پیریانودَ وجے دَ لیون توب نه داپه وجه دَ دے چه دوی وائی یقیناً خرڅول پشان دَ سود دی اوحلال کړے ده اللّٰه تعالیٰ بیعه اوحرام کړے دے سود پس څوك چه راغے هغه ته وعظ دَ طرف دَ رب نه، پس منع شو، پس دهٔ لره هغه مال دے چه مخکښے ورکړے دے اومعامله دَ دهٔ حواله ده اللّٰه ته، اوڅوك چه واپس شی(سود حلال ګنړلوته) پس دغه کسان اور والا دی دوی به په هغے کښ همیشه وی (۲۷۵) ورکه وی اللّٰه تعالیٰ (برکت)

[۲۷۳] په دے آیت کښ شپږمه خبره ده یعنی مصرف پیژندل۔اودا مصرف دپاره دَانفاق فی سبیل اللّٰه دے اوهغه مجاهدین اوطالبان دَ علم دی اودَ هغوی شپږ صفات ئے ذکر کړی دی ﴿ضَرْبًا فِي الْاَرْضِ﴾ مراد دَ دے نه سفرکول دَپاره دَتجارت یا مزدورئ کولو ﴿الْجَاهِلُ﴾ مراد دَ دهٔ نه هغه څوك دے چه دَ حقیقت دَ دے فقراؤ نه خبرنه لری ﴿التَّعَفُّفِ﴾ ځان دَ حرامونه بچ ساتل دی او سوال کول بے ضرورته هم په دے کښ داخل دے ﴿اِلْحَافًا﴾ دَ حدیث مضمون دا دے چه دَ چاسره څلویښت درهمه وی او سوال کوی نو هغے ته سوال الحافاً وائی۔ نو حاصل معنیٰ ئے داشوه چه بے ضرورته سوال کوی۔

[۲۷٤] په دے آیت کښ اوومه خبره ده۔ په دے کښ عموم دَاوقاتودَانفاق ذکردے یعنی که دَ شپے خرچ کوئ اوکه دَ ورځے خرچ کوئ نودَ ثواب دپاره تعین دَیوخت ته ضرورت نیشته دے لکه چه بدعتیان دَځان نه تخصیصونه کوی۔ دَجمعے شپه څلویښتمه وغیره۔

[۲۷۵] دَ دے آیت نه تر(۲۸۳)پورے دریم باب دے پدے کښ منع ده دَ ربانه اوتخویف دے اوبشارت دے اوطریقه دَ معاملاتو دپاره دَامن پیداکولواودپاره دَمال ګټلوپه آیت مدائینه کښ مخکښ دَ هغه چا ذکر ووچه دَ اللّٰه تعالیٰ په لارکښ خرچ کوی اوس دَ هغه چا ذکردے چه چاله قرض هم بغیردَ زیات عوض نه نه ورکوی بلکه زیات سود ترینه غواړی ﴿اِلَّا كَمَا يَقُوْمُ الَّذِيْ﴾ یعنی دَ قبرنه به دَ لیونوپه شکل پا سیږی یا پشان دَ هغه چاچه پیریان پرے راغلی وی او داسے دا شخص په دُنیا کښ هم ښکاره کیږی۔ او دَ دے آیت نه علماؤ ثابت کړے دی چه په انسانانوباندے پیریان راتلے شی اودَهغه په ژبه یا بدن کښ خپل تصرف کوی

الرِّبٰوا وَيُرْبِي الصَّدَقٰتِ ۗ وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ كَفَّارٍ اَثِيْمٍ ﴿٢٧٦﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَاَقَامُوا
الصَّلٰوةَ وَاٰتَوُا الزَّكٰوةَ لَهُمْ اَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ ۚ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿٢٧٧﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ
اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَذَرُوْا مَا بَقِيَ مِنَ الرِّبٰٓوا اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿٢٧٨﴾ فَاِنْ لَّمْ تَفْعَلُوْا فَاْذَنُوْا بِحَرْبٍ
مِّنَ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ۚ وَاِنْ تُبْتُمْ فَلَكُمْ رُءُوْسُ اَمْوَالِكُمْ ۚ لَا تَظْلِمُوْنَ وَلَا تُظْلَمُوْنَ ﴿٢٧٩﴾ وَاِنْ كَانَ ذُوْ

دَ مال دَ سود اوزیاتوی مال دَ صدقاتو، اوالله تعالیٰ نه خوخوی هرکافر (حلال ګنړونکے دَ سود) ډیرګنهګار سودکوونکے (۲۷٦) یقیناً هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے اوعمل ئے کړے دے په طریقه دَ نبی(ﷺ) اوپابندی ئے کړے ده دَ مانځه اوورکړے دے زکوٰة دوی لره ثواب دَ دوی دے په نیزدَ رب دَ دوی اونه به وی هیڅ ویره په دوی باندے اونه به دوی غمژن کیږی (۲۷۷) اے ایمان والو اویریږئے دَ الله تعالیٰ نه اوپریږدئے هغه مال چه باقی پاتے وی دَ سود نه، ځکه چه تاسومؤمنان یئ (۲۷۸) پس که اونکړو تاسو داکارپس خبرشئے په جنګ دَ الله تعالیٰ اودَ رسول دَ هغه، اوکه توبه اوکړه تاسوپس تاسولره اصل دَ مالونوستاسودے ظلم به نه کوئے تاسواونه به په تاسوظلم کیدے شي (۲۷۹) اوکه وی (قرض داری)

﴿الرِّبٰوا﴾ زیات مال اخستل دَبل چانه چه دَ هیڅ مال په عوض کښ نه وی اودَ هغے په شریعت کښ ډیرمثالونه دی ﴿اِنَّمَا الْبَيْعُ مِثْلُ الرِّبٰوا﴾ یعنی دوی ربوا ته جائز وائی اودَبیع پشان ئے ګڼړی اوداکفردے۔ ﴿فَلَهٗ مَا سَلَفَ﴾ یعنی دَ کفرپه حال کښ چه کوم مال دَربوی ئے اخستلے دے نوهغه ورته معاف دے یا کوم ئے چه خورلے دے نوواپسی راویستل ورباندے لازم نه دی ﴿وَاَمْرُهٗٓ اِلَى اللّٰهِ﴾ په راتلونکی وخت کښ دَ دهٔ حال الله تعالیٰ ته سپارلے شویدے چه دَ ربوا نه ئے بچ ساتی یانه۔

[۲۷٦] په دے کښ دَ ربوا اودَ صدقے په مینځ کښ فرق ذکرکوی دپاره دَ بچ کیدلودَ ربوا نه اوترغیب په صدقه باندے ﴿يَمْحَقُ﴾ مال دَ ربوا کښ هیڅ برکت نه وی اوچه کوم مال سره شریك شی نو هغه هم بے برکته کړی اودَ دے تائید په سورة روم ۳۹ کښ ذکردے ﴿كَفَّارٍ﴾ هغه څوك چه ربواحلال ګڼړی۔ ﴿اَثِيْمٍ﴾ هغه مسلمان چه ربواکوی۔

[۲۷۷] دے کښ بشارت دے هغه چاته چه ځان دَ سودنه بچ ساتی اوځلورکارونه دَکامیابئے اودَجنت دَحصول دپاره کوی۔

[۲۷۸] په دے آیت کښ خاص خطاب دے مؤمنانودپاره دَ بچ کیدلودَ ربوا دَ ټولوطریقونه اودَ ﴿ذَرُوْا مَا بَقِيَ﴾ مطلب دا دے چاته دَ سود رقم پاتے وی نو هغه دِ ورته پریږدی۔ دارنګ په ملك دَ مسلمانانو کښ چه طریقے دَ سود وی هغه ټولے پریخودل پکار دی او اشاره ده چه دَ ایمان تقاضا دا ده چه ربوا به نه کوی۔

[۲۷۹] دَجنګ نه مراد دا دے چه دوی دَ الله تعالیٰ او دَ رسول دُشمنان دی مسلمانانوله پکار دی چه دَ دوی سره جنګ اوکړی ﴿لَا تَظْلِمُوْنَ وَلَا تُظْلَمُوْنَ﴾ اشاره ده چه په اسلام کښ دَ ظالم کیدل او مظلوم کیدل دواړونه ځان ساتل پکار دی دلتهٔ دَ اول ظلم نه مراد مال، دَ ربوا غوختل دی اودَ دویم نه مراد رأس المال نه واپس کول دی ۔

عُسْرَةٍ فَنَظِرَةٌ إِلٰى مَيْسَرَةٍ ؕ وَاَنْ تَصَدَّقُوْا خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿٢٨٠﴾ وَاتَّقُوْا يَوْمًا تُرْجَعُوْنَ فِيْهِ
اِلَى اللّٰهِ ۫ ثُمَّ تُوَفّٰى كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿٢٨١﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِذَا تَدَايَنْتُمْ
بِدَيْنٍ اِلٰۤى اَجَلٍ مُّسَمًّى فَاكْتُبُوْهُ ؕ وَلْيَكْتُبْ بَّيْنَكُمْ كَاتِبٌۢ بِالْعَدْلِ ۪ وَلَا يَاْبَ كَاتِبٌ اَنْ
يَّكْتُبَ كَمَا عَلَّمَهُ اللّٰهُ فَلْيَكْتُبْ ۚ وَلْيُمْلِلِ الَّذِيْ عَلَيْهِ الْحَقُّ وَلْيَتَّقِ اللّٰهَ رَبَّهٗ وَلَا يَبْخَسْ مِنْهُ
شَيْـًٔا ؕ فَاِنْ كَانَ الَّذِيْ عَلَيْهِ الْحَقُّ سَفِيْهًا اَوْ ضَعِيْفًا اَوْ لَا يَسْتَطِيْعُ اَنْ يُّمِلَّ هُوَ فَلْيُمْلِلْ
وَلِيُّهٗ بِالْعَدْلِ ؕ وَاسْتَشْهِدُوْا شَهِيْدَيْنِ مِنْ رِّجَالِكُمْ ۚ فَاِنْ لَّمْ يَكُوْنَا رَجُلَيْنِ فَرَجُلٌ وَّامْرَاَتٰنِ
مِمَّنْ تَرْضَوْنَ مِنَ الشُّهَدَآءِ اَنْ تَضِلَّ اِحْدٰىهُمَا فَتُذَكِّرَ اِحْدٰىهُمَا الْاُخْرٰى ؕ وَلَا يَاْبَ الشُّهَدَآءُ
اِذَا مَا دُعُوْا ؕ وَلَا تَسْـَٔمُوْۤا اَنْ تَكْتُبُوْهُ صَغِيْرًا اَوْ كَبِيْرًا اِلٰۤى اَجَلِهٖ ؕ ذٰلِكُمْ اَقْسَطُ عِنْدَ اللّٰهِ وَاَقْوَمُ
لِلشَّهَادَةِ وَاَدْنٰۤى اَلَّا تَرْتَابُوْۤا اِلَّاۤ اَنْ تَكُوْنَ تِجَارَةً حَاضِرَةً تُدِيْرُوْنَهَا بَيْنَكُمْ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ

تنګ دست پس مهلت ورکول دی تر اسانتیا پورے اوخیراتی پرے خودل دَ دغه مال غوره دی تاسو لره که تاسوپوهیږئ (۲۸۰) او اویریږئ دَ هغه ورځے نه چه اوبه ګرځولے شئے پکښ اللّٰه تعالیٰ ته بیا به پوره ورکړے شی هرنفس ته بدله دَ هغه عمل چه کړے وی اوپه دوی به ظلم نه شی کیدے(۲۸۱) اے ایمان والو: کله چه معامله کوئے په قرض سره ترنیټے مقرر پورے پس اولیکئے هغه، اولیکل دِکوی په مینځ ستاسو کښ لیکونکے په انصاف سره اوانکارِ نکوی لیکونکے دَ لیکلونه لکه چه خودنه کړے ده دهٗ ته اللّٰه تعالیٰ پس لیکل دِ اوکړی اوبیان دِکوی هغه کس چه په هغه باندے قرض وی او ویره دِکوی دَ اللّٰه تعالیٰ نه چه رب دَ دهٗ دے اونه دِکموی دَ هغے نه هیڅ شے پس که چرے وی هغه کس چه په هغه باندے قرض دے بے عقله یا کمزوری بدن والا یا طاقت نه لری چه بیان اوکړی هغه پس بیان دِ اوکړی نائب دَ دهٗ په انصاف سره اوګواهان اونیسئے دوه تنه دَ نارینوستاسونه پس که نوی دوه نارینه پس یونارینه اودوه زنانه دَ هغه چانه چه خوښ وی تاسوته دَګواهانونه (دَ وجے دَ دیندارئے دَ هغوی نه) که هیرول اوکړی یوه پس یاد داشت به ورکړی یوه دے بلے ته اوانکارِ نه کوی ګواهان کله چه رااوبللے شی ګواهئے ته اوسستی مه کوئے دَ لیکلودَ هغے نه که وړه معامله وی اوکه لویه وی ترنیټے پورے ، دا (طریقه) زیات انصاف دے په نیز دَ اللّٰه تعالیٰ اوښه یاد ؤونکے دَ ګواهئے دے اونزدے ده دیته چه شك به نکوئے مګر که وی معامله تجارت دستی چه لاس پلاس ورکوئے په مینځ خپل کښ پس نیشته په تاسو باندے ګناه

[۲۸۰] په دے کښ تعلیم دَاخلاق حسنه دے یعنی که قرض دارے غریب وی نومهلت ورکړئے تردے چه وس ئے اوشی یا قرض ورته معاف کړئے نودابه صدقه شی۔

[۲۸۱] دا تخویف اُخروی دے یعنی که غواړئ چه قیامت کښ اللّٰه تعالیٰ مونږسره آسانه معامله اوکړی نوته دَخپلو قرضدارو سره په دُنیا کښ آسانه معامله اوکړه۔

اَلَّا تَكْتُبُوْهَا ؕ وَاَشْهِدُوْٓا اِذَا تَبَايَعْتُمْ ۪ وَلَا يُضَآرَّ كَاتِبٌ وَّلَا شَهِيْدٌ ؕ وَاِنْ تَفْعَلُوْا فَاِنَّهٗ فُسُوْقٌۢ
بِكُمْ ؕ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ وَيُعَلِّمُكُمُ اللّٰهُ ؕ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿٢٨٢﴾ وَاِنْ كُنْتُمْ عَلٰى سَفَرٍ وَّلَمْ تَجِدُوْا
كَاتِبًا فَرِهٰنٌ مَّقْبُوْضَةٌ ؕ فَاِنْ اَمِنَ بَعْضُكُمْ بَعْضًا فَلْيُؤَدِّ الَّذِى اؤْتُمِنَ اَمَانَتَهٗ وَلْيَتَّقِ
اللّٰهَ رَبَّهٗ ؕ وَلَا تَكْتُمُوا الشَّهَادَةَ ؕ وَمَنْ يَّكْتُمْهَا فَاِنَّهٗٓ اٰثِمٌ قَلْبُهٗ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ عَلِيْمٌ ﴿٢٨٣﴾ ع ٣٤٧

چه نه لیکئے هغے لره اوګواهان نیسئے کله چه سوداګری کوئے، اونقصان دِ نه ورکیږی لیکونکی ته اونه ګواه ته اوکه تاسو اوکړو داسے کار پس یقیناً دالوی ګناه دے په تاسو (پورے نخته دے) او اویریږئے دَ اللّٰه تعالیٰ نه، اوپوهه درکوی تاسوته اللّٰه تعالیٰ او اللّٰه تعالیٰ په هرڅه باندے پوهه دے (۲۸۲)اوکه تاسویئ په سفر باندے اونه مومئے لیکونکے نو(جائز ده چه واخلئ) ګانړه قبض کړے شوے، پس که اعتبار اوکړی بعضے ستاسوپه بعضے باندے، پس ادا دِ کړی هغه کس چه اعتبار پرے کړے شوے دے حق خپل او ویره دِ اوکړی دَ اللّٰه تعالیٰ نه چه رب دَ دهٗ دے اومه پټوئے ګواهی اوچاچه پټه کړه ګواهی پس یقیناً ګنهګار دے زړه دَ دهٗ او اللّٰه تعالیٰ ستاسوپه عملونوباندے پوهه دے (۲۸۳)

[۲۸۲] دا آیت دَ مدائنے دے۔ په دے کښ تقریباً پنځویشت فقهی احکام دی او دا په ټولو آیاتونو کښ اوږد آیت دے۔ مقصددا دے معاملات داسے کوئ چه جنګ ترینه پیدا نه شی اودارنګ مال په حلاله طریقه اوګټئے دَ دے دپاره چه دَاللّٰه تعالیٰ په لارکښ خرچ اوکړئ ﴿اِذَا تَدَايَنْتُمْ﴾ معامله دَ دین په درے قسمه ده اول په قرض سره سود اغستل دویم سَلَم(چه روپئی په لاس درکړی اوسوداپه نیټه سره وی) دریم چاله قرض حسنه ورکول په اول دواړو کښ اجل کیخودل ضروروی دی ﴿بِالْعَدْلِ﴾ په دے کښ اشاره چه کاتب مسلمان اوعالم دین دارپکاردے ﴿كَمَا عَلَّمَهُ﴾ په دے کښ اشاره ده چه چل دَکتابت هم دَاللّٰه تعالیٰ احسان اوعلم شرعی دے ﴿سَفِيْهًا﴾ کم عقل چه مال بے ځایه خرچ کوی ﴿اَوْ ضَعِيْفًا﴾ یعنی بدن ئے کمزوره دے ﴿اَوْ لَا يَسْتَطِيْعُ اَنْ يُّمِلَّ هُوَ﴾ طاقت نه لری ځکه چه چاراوی یابه په ژبه باندے نه پوهیږی ﴿وَلِيُّهٗ﴾ مراد دَ دے نه وکیل مختار،ترجمان دے ﴿مِمَّنْ تَرْضَوْنَ﴾ اشاره ده عدالت اوتقویٰ دَ ګواهانوته ﴿اَنْ تَضِلَّ﴾ په زنانه کښ نقصان دَ عقل دے حدیث دَ نبی ﷺ کښ په دے باندے تصریح ده اودَچاچه عقل کم وی نوخطا کیدل او هیرول په هغه باندے ډیرراځی نو دوه ئے دَسړی په ځائے قائم کړی دی ﴿وَاَدْنٰٓى اَلَّا تَرْتَابُوْٓا﴾ اشاره ده چه اوامرد دے آیت واجب دی په وخت دَ خطرے دَ جګړے پیدا کیدلو کښ ﴿وَلَا يُضَآرَّ﴾ معنیٰ دا ده چه لیکونکے اوګواه دِ تنګول نه کوی چه ډیراُجرت غواړی نوصیغه دَمعلوم شوه بله معنیٰ دا چه ضرربه نشی ورکیدلے چه په زور بے اُجرته کارترینه اخلی نوصیغه دَ مجهول ده۔

[۲۸۳] دا آیت هم دَ محکمښ سره تعلق لری۔ دَ سفراو دَکاتب دَ موندلوقید دَ ډیرضرورت دپاره دے۔ په حدیث سره ثابت ده چه په مدینه منوره کښ رسول اللّٰه ﷺ دَ یوبهودی سره خپله زغره ګانړه ایښے وه په ځپل اوږی وربشو کښ۔ ګانړه څیزنه په ټولومذهبونو کښ فائده اغستل جائزنه دی بلکه دا سود دے صرف دَ څاروی په باره کښ دَ امام احمد خلاف دے ﴿اٰثِمٌ قَلْبُهٗ﴾ زړه ځکه ګنهګار دے چه پټول په زړه کیږی نوهغه محل دَګناه دے ﴿فَاِنْ اَمِنَ بَعْضُكُمْ بَعْضًا﴾ یعنی دَ اعتماد اواعتبارد وجے نه لیکل نه کوی اونه

لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ وَاِنْ تُبْدُوْا مَا فِيْۤ اَنْفُسِكُمْ اَوْ تُخْفُوْهُ يُحَاسِبْكُمْ بِهِ اللّٰهُ ؕ
فَيَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿٢٨٤﴾ اٰمَنَ الرَّسُوْلُ بِمَاۤ اُنْزِلَ
اِلَيْهِ مِنْ رَّبِّهٖ وَالْمُؤْمِنُوْنَ ؕ كُلٌّ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَمَلٰٓئِكَتِهٖ وَكُتُبِهٖ وَرُسُلِهٖ ۫ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ اَحَدٍ
مِّنْ رُّسُلِهٖ ۫ وَقَالُوْا سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا ۫ غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَاِلَيْكَ الْمَصِيْرُ ﴿٢٨٥﴾ لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا
وُسْعَهَا ؕ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا اكْتَسَبَتْ ؕ رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَاۤ اِنْ نَّسِيْنَاۤ اَوْ اَخْطَاْنَا ۚ رَبَّنَا وَلَا
تَحْمِلْ عَلَيْنَاۤ اِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهٗ عَلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِنَا ۚ رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلْنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهٖ ۚ

خاص په اختیار دَ اللّٰه تعالیٰ کښ دی هغه څه چه په اسمانونو کښ دی اوهغه څه چه په زمکه کښ دی، او که ښکاره کوئے تاسو هغه څه چه په زړونو ستاسو کښ دی یاپټوئے هغه، نوحساب به کوی تاسوسره په هغے باندے اللّٰه تعالیٰ بخنه کوی چاته چه اوغواړی او عذاب ورکوی چا له چه اوغواړی او اللّٰه تعالیٰ په هرڅه باندے قدرت لرونکے دے(٢٨٤) ایمان راوړے دے رسول اللّٰه(ﷺ) په هغه څه چه نازل کړے شوی دی دهٔ ته دَ طرف دَ رب دَ دهٔ نه اومؤمنانو، هریوایمان روړے دے په اللّٰه تعالیٰ اوپه ملائکودَ هغه اوکتابونودَ هغه اورسولانودَ هغه (وائی دوی) جدائی نه کوو(په ایمان راوړلوکښ) په مینځ دَ هیڅا کښ دَ رسولانودَ هغه نه، اووائی دوی واوریدلو مونږ اوتابعداری کؤو مونږ غواړو بخنه ستانه اے ربه ځمونږ او تاته دی درګرځیدل دَ ټولو (٢٨٥) کړاؤنه ږدی اللّٰه تعالیٰ په هیڅا باندے مګرپه قدردَ طاقت دَ هغه، دهٔ له ثواب دَ هغه نیك عمل دے چه دهٔ کړے وی اوپه دهٔ باندے تاوان دَ هغه بدعمل دے چه دهٔ کړے وی اے ربه ځمونږه: مه نیسے مونږه که هیرشی ځمونږ نه یاخطائی اوکړو مونږ اے ربه ځمونږ: اومه بارکوه په مونږ باندے دروند پیټے لکه چه تابارکړے دے په هغه کسانو چه مخکښے ځمونږ نه ؤو اے ربه ځمونږ اومه اچوے په مونږ باندے هغه مصیبتونه چه طاقت نیشته مونږلره دَ هغے

ګڼاړه طلب کوی۔

[٢٨٤] دَ دے نه ترآخره پورے ځلورم باب دے په دے کښ واپس کول دَ هغه ځلورو مقصدونو دی۔ کوم چه په دے سورة کښ بیان شول۔توحید، رسالت، جهاد، انفاق فی سبیل اللّٰه اواختتام دے په دُعا سره۔ ﴿لِلّٰهِ مَافِي السَّمٰوٰتِ﴾ په دے کښ رد دَ شرك فی التصرف دے ﴿مَافِيْۤ اَنْفُسِكُمْ﴾ نه مراد هغه عقیدے اوخیالات دی چه په قصد اواختیار سره په زړه کښ لری۔ دا دَ آخری ایت په دلیل سره ثابت ده ۔ په دے آیت کښ دعویٰ دَ توحید ده ځلورم ځل چه واکدار دَ ټول عالم اوغیب دان یواللّٰه تعالیٰ دے نو بندګی یو اللّٰه تعالیٰ پورے خاص کړئ۔

[٢٨٥] په دے آیت کښ صدق دَرسول اللّٰه ﷺ ذکردے اوتصدیق دَکل سورة اودَ قرآن دے دَ طرف دَ رسول اللّٰه ﷺ اودَ اصحاب کرامونه۔ مراد دَ ﴿الْمُؤْمِنُوْنَ﴾ نه صحابه کرام دی اوّلاً بیاروستونورمؤمنان۔ ﴿كُلٌّ اٰمَنَ﴾ داتفصیل دَایمان دَهغوی دے﴿سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا﴾ دَ ایمان سره قبولیت اوعمل کول هم ضروری دی ﴿غُفْرَانَكَ﴾ اشاره ده اقرارته په خپل قصور کولوباندے۔

وَاعْفُ عَنَّا ۟ وَاغْفِرْ لَنَا ۟ وَارْحَمْنَا ۟ اَنْتَ مَوْلٰىنَا فَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿٢٨٦﴾

اومعافی اوکړے ځمونږ نه اوبخنه اوکړے مونږ ته اورحم اوکړے په مونږ باندے ته مولا ځمونږ ئے پس غلبه راکړے مونږ ته په قوم کافرانو باندے(٢٨٦)

[٢٨٦] پدے کښ اشاره ده جهاداوانفاق ته ﴿لَا يُكَلِّفُ﴾ تکليف دوه قسمه دے يوتکوينی چه هغه مرضونه او مصيبتونه دی اودويم تشريعی چه هغه احکام شرعيه دی اوپه هغے کښ جهاد اوانفاق داخل دی ﴿لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا اكْتَسَبَتْ﴾ اشاره ده دَعمل کولونه روستوجزا سزا ته، په نيکواعمالوکښ اګرچه تکليف دے ليکن دَ ثواب په لحاظ سره هغه آسان دی او ګناهونه اګرچه آسان دی ليکن دَعذاب په لحاظ سره ګران دی دَ دے وجے دَنيك عمل سره ئے کسبت (مجرد) اودَ بدعمل سره ئے اکتسبت (مزيد) ذکرکړو ﴿اِنْ نَّسِيْنَا اَوْ اَخْطَاْنَا﴾ يومعنیٰ دا ده که پريږدو مونږ څه حکم ستا او ګناه کړے وی مونږ په کولو دَ حرامو سره۔ دويمه معنیٰ مشهوره ده ﴿اِصْرًا﴾ مراد دَ دے نه شرك او کفر دے چه هغه نه معاف کيږی بغير دَ توبے نه۔ يعنی اے اللّٰه مونږ دَ شرك او کفرنه بچ اوساتے ﴿مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهٖ﴾ هغه مصيبتونه چه په باره دَ دعوت الی الحق کښ راځی ﴿وَاعْفُ عَنَّا﴾ عفو داده چه اللّٰه تعالیٰ خپل حق پريږدی او مغفِرت دا دے چه پرده واچوی اودَخلقونه ئے بچ اوساتی۔ اورَحم دادے چه ائنده دپاره ئے دَګناه نه بچ کړی ﴿فَانْصُرْنَا﴾ په وخت دَمناظره اومحاجه کښ دَکافرانوسره يا په جنګ کولوکښ دَ هغوی سره ﴿الْكٰفِرِيْنَ﴾ هغه خلق چه دَ دے سورة دَ مقصد نه منکر دی او مقابلے کوی دَ حق پرستو سره۔

سُوْرَةُ اٰلِ عِمْرٰن (۳) مَدَنِيَّةٌ (۸۹) بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ اٰيَاتُهَا ۲۰۰ رُكُوْعَاتُهَا ۲۰

الٓمّٓ ① اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۙ الْحَيُّ الْقَيُّوْمُ ② نَزَّلَ عَلَيْكَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ وَاَنْزَلَ التَّوْرٰىةَ وَالْاِنْجِيْلَ ③ مِنْ قَبْلُ هُدًى لِّلنَّاسِ وَاَنْزَلَ الْفُرْقَانَ ۗ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

الف لام میم (۱) اللّٰه تعالیٰ نیشته حقدار دَ بندګئ سیوا دَ هغه نه همیشه ژوندے دے اوانتظام کؤونکے دَ عالم دے (۲) نازل کړے دے مونږ په تاباندے کتاب دَ حق ښکاره کولودپاره، رشتنی کؤونکے دے دَ هغه کتابونو چه دَ دهٔ نه مخکښے ؤو، اونازل کړے دے تورات اوانجیل (۳) پرواندے دَ قرآن نه لار (دَ توحید) خائی خلقوته اونازل کړی دی (نورکتابونه) دَ حق باطل جدا کؤونکی یقیناً هغه خلق چه کفرئے کړے دے

سورة ال عمران

ربط: دَ دے سورة دَمخکښ سورة سره (۱) سورة بقره کښ په توحیدباندے دلیلونه وؤنوپدے سورة کښ جواب دَاعتراضونو دے (۲) په هغه سورة کښ څلورمسائل په یو طرز سره وؤ(توحید، رسالت، جهاد اوانفاق) نو په دے سورة کښ په بل طرزسره دی (۳) په هغه سورة کښ په شرك دَ یهودیانوباندے تردید وؤنوپه دے سورة کښ په شرك دَ نصاریٰ باندے رد دے۔

دعویٰ دَ سورة : اثبات دَتوحید دے په جواب دَشبهاتو سره۔ حاصل دا دے چه په توحید کښ او په رسالت دَ دے رسول کښ شك مه کوئے بلکه یقین اوکړئے اوجهادکښ شریك شئے اوبخل مه کوئے۔ اوځلورمضامین دی۔ توحید، رسالت، جهاد او انفاق فی سبیل اللّٰه۔

خلاصه دَ سورة: په دے سورة کښ څلور حصے دی اوله حصه تر(٦٣) پورے ده په باره دَ توحیدکښ۔ پدے کښ درے بابونه دی اول باب تر(۱۷) پورے دے، په دے کښ دعویٰ دَتوحید اوپه هغے باندے دلیل عقلی اونقلی اووحي اونتیجه دَ هغے بیا جواب دَ یوسوال دے اوتعلیم دَ دُعا دے اوتزهید اوذلت دَ دُنیائیے ذکرکړے دے او بیا زیرے دے منونکوته او دَ هغوی صفات دی۔ (تنبیه) دَ دے سورة ابتدائی تقریباً اتیا آیاتونه دَ نجران دَ نصاراؤ په رد کښ نازل شوی دی۔

تفسیر

[۲] په دے آیت کښ دعویٰ دَ توحید ده چه لائق دَ بندګئ خاص اللّٰه تعالیٰ دے، عیسیٰ علیه السلام اومریم علیها السلام معبود نشی کیدے۔ بندګئ اوعبادت سره احتیاج لازم دے ځکه چه بنده محتاج وی نو حاجت پوره کوؤنکے صرف اللّٰه تعالیٰ دے ۔ پدے ایت کښ دعویٰ دَ توحید ده او دوه عقلی دلیلونه دی په ذکردَصفاتودَ اللّٰه تعالیٰ سره۔

[۳] په دے ایت کښ دلیل وحی او دلیل نقلی دے دَ مخکنو کتابونونه چه تورات او انجیل دی ۔

بِاٰيٰتِ اللّٰهِ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيْدٌ ؕ وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ ذُو انْتِقَامٍ ۝٤ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَخْفٰى عَلَيْهِ شَيْءٌ فِي الْاَرْضِ
وَلَا فِي السَّمَآءِ ۝٥ هُوَ الَّذِيْ يُصَوِّرُكُمْ فِي الْاَرْحَامِ كَيْفَ يَشَآءُ ؕ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝٦ هُوَ
الَّذِيْٓ اَنْزَلَ عَلَيْكَ الْكِتٰبَ مِنْهُ اٰيٰتٌ مُّحْكَمٰتٌ هُنَّ اُمُّ الْكِتٰبِ وَاُخَرُ مُتَشٰبِهٰتٌ ؕ فَاَمَّا الَّذِيْنَ
فِيْ قُلُوْبِهِمْ زَيْغٌ فَيَتَّبِعُوْنَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ ابْتِغَآءَ الْفِتْنَةِ وَابْتِغَآءَ تَاْوِيْلِهٖ ۚ وَمَا يَعْلَمُ تَاْوِيْلَهٗٓ اِلَّا
اللّٰهُ ۘ وَالرّٰسِخُوْنَ فِي الْعِلْمِ يَقُوْلُوْنَ اٰمَنَّا بِهٖ ۙ كُلٌّ مِّنْ عِنْدِ رَبِّنَا ۚ وَمَا يَذَّكَّرُ اِلَّآ اُولُوا الْاَلْبَابِ ۝٧

وقف لازم — وقف منزل

په آیاتونودَ الله تعالیٰ دپاره دَ دوی عذاب سخت دے، اوالله تعالیٰ زوراوردے بدله اغستونکے دے (٤) یقیناً الله تعالیٰ نه پټیږی دَ هغه نه هیڅ شئے په زمکه کښ اونه په آسمان کښ (٥) خاص الله تعالیٰ هغه ذات دے چه شکلونه جوړوی ستاسو په خپلودَ میندوکښ چه څرنګ اوغواړی نیشته حاجت پوره کؤونکے سیوا دَ هغه نه زور ور دے حکمتونو والا دے(٦)خاص الله تعالیٰ هغه ذات دے چه نازل کړے دے په تا باندے کتاب بعضے دَ دهٔ نه آیاتونه دی بنکاره مراد والا دغه اصل دَکتاب دی، اونور آیاتونه پټ مراد والا دی پس هرچه هغه کسان دی چه په زړونودَ هغوی کښ کږلیچ دے پس تابعداری کوی دَ هغے پټ مراد والا دَ دینه دپاره دَ طلب دَګمراه کولو اودپاره دَ حقیقت دَ هغے اونه پوهیږی په حقیقت دَ هغے مګرالله تعالیٰ اوکلك په علم کښ وائی ایمان راوړے دے مونږ په دے، داټول دَ طرف دَ رب ځمونږ نه دی، اونصیحت نه اخلی مګرصفا عقل والا (٧)

[٤] دے آیت کښ دلیل نقلی دے ځکه چه مراد دَ فرقان نه محکمئ صحیفے دی او بیا تخویف اُخروی دے۔ ﴿هُدًى﴾ مقصد دَ دے نه توحید خودل دی په دلیلونو سره ﴿عَزِيْزٌ ذُو انْتِقَامٍ﴾ په دے کښ رد دے په نصاریٰ باندے چه عیسیٰ اومریم علیهما السلام کښ داصفتونه نیشته نو هغوی معبودنه شی کیدلے۔

[٥] دا هم دلیل عقلی دے او رد دے په شرك فی العلم باندے، داصفت هم په عیسیٰ او مریم علیهما السلام کښ نیشته دے۔

[٦] اَرْحَام ئے ځکه ذکرکړو چه عیسیٰ علیه السلام صرف په رحم کښ جوړ شوے وؤ دَپلار(شا) کښ نه وؤ۔ او دا هم دلیل عقلی دے سرهٔ دَ نتیجے نه۔

[٧] دا جواب دَ سوال دے، سوال دا دے چه عیسیٰ علیه السلام ابن الله الفاظ په انجیل کښ شته دے، او دا رنګ قرآن کریم کښ وَرُوْحٌ مِّنْهُ لفظ دے، دَ دے نه معلومیږی چه عیسیٰ علیه السلام دَ الله تعالیٰ جزدے، دَ جواب حاصل دا دے چه دارنګ الفاظ متشابهات دی دَ دے حقیقت باندے دَ الله تعالیٰ نه سیوا بل څوك نه پوهیږی اودَ دے داسے معنیٰ اغستل چه محکماتونه خلاف وی ناجائزه ده ﴿اُمُّ الْكِتَابِ﴾ اصل دَکتاب ځکه دے چه دَ متشابهاتودَ مراد په وخت کښ محکماتو ته رجوع کیږی، دارنګ په عقیده او په عمل کولوکښ هم دے محکماتو باندے بنیاد دے، حدیث دَعائشه رضی الله عنها کښ راغلی دی چه اوس چه څوك متشابهاتو پسے روان وی نو پوهه شئ چه هغوی اهل زیغ دی۔ اودے آیت کښ دَ آیتونو دوه قسمونه ذکرکړل، محکمات اومتشابهات او دَ اهل علمو دوه قسمونه اهل زیغ اوراسخون۔ اهل زیغ تابع دَمتشابهات دی اوراسخون

رَبَّنَا لَا تُزِغْ قُلُوْبَنَا بَعْدَ اِذْ هَدَيْتَنَا وَهَبْ لَنَا مِنْ لَّدُنْكَ رَحْمَةً ۚ اِنَّكَ اَنْتَ الْوَهَّابُ ۝٨ رَبَّنَآ
اِنَّكَ جَامِعُ النَّاسِ لِيَوْمٍ لَّا رَيْبَ فِيْهِ ۭ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُخْلِفُ الْمِيْعَادَ ۝٩ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَنْ
تُغْنِيَ عَنْهُمْ اَمْوَالُهُمْ وَلَآ اَوْلَادُهُمْ مِّنَ اللّٰهِ شَيْـــًٔا ۭ وَاُولٰۗىِٕكَ هُمْ وَقُوْدُ النَّارِ ۝١٠ كَدَاْبِ اٰلِ
فِرْعَوْنَ ۙ وَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۭ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا ۚ فَاَخَذَهُمُ اللّٰهُ بِذُنُوْبِهِمْ ۭ وَاللّٰهُ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ۝١١

(وائی دوی) اے ربه ځمونږ مه کړه وے زړونه ځمونږ پس دَ هغے نه چه خودنه کړے ده تامونږته، اورا اوبخے مونږته دَ خپل طرف نه پوخ والے په دین یقیناً ته بخشش ورکوونکے ئے (۸) اے ربه ځمونږیقیناً ته جمع کوونکے دَ ټولوخلقوئے په داسے ورځ کښ چه شك نیشته په هغے کښ یقیناً اللّٰه تعالیٰ خلاف نه کوی دَ وعدے خپلے نه (۹) یقیناً هغه کسان چه کفرئے کړے دے چرے به لرے نکړی دَ دوی نه مالونه دَ دوی اونه اولاد دَ دوی دَ عذاب دَ اللّٰه تعالیٰ نه څه شے اودغه کسان دوی خشاك دَ اور دی (۱۰) (حال دَ دوی) پشان دَ حال دَ فرعونیانو دے اودَ هغه کسانوچه دَ دوینه مخکښے ؤو، دروغژن کړی ؤوهغوی ایاتونه ځمونږ پس اونیول دوی لره اللّٰه تعالیٰ په سبب دَګناهونودَ دوی او اللّٰه تعالیٰ سخت عذاب ورکوونکے دے (۱۱)

تابع دَ محکماتودی ﴿اِبْتِغَآءَ الْفِتْنَةِ﴾ مراد دَ فتنے نه ګمراهی اوکفروشرك وبدعت دے ﴿تَاْوِيْلِهٖ﴾ دلته مراد دَ تاویل نه تحریف دے دَپاره دَ اثبات دَخواهش خپل ﴿وَمَا يَعْلَمُ تَاْوِيْلَهٗٓ﴾ دلته مراد دَ تاویل نه حقیقت دَ هغے دے او ﴿اِلَّا اللّٰهُ﴾ باندے په نیزدَ اکثرصحابؤ اوتابعینو وقف دے۔ اوکه دَ تاویل نه مراد صرف تفسیرشی موافق دَ محکماتو سره نو والراسخون عطف دے په اللّٰه باندے۔

[۸] دا دُعا دَ تثبت ده۔ دلته رحمة په معنیٰ دَ تثبت سره دے۔ اشاره ده چه کله اهل زیغ ملایان په متشابهاتوسره خلق ګمراه کوی نو دغه وخت دا دُعا په کثرت سره وئیل پکاردی۔

[۹] دا هم دُعا ده په تقدیرد عبارت سره۔فَلَاتُخْزِنَا بِالزَّيْغِ (مونږمه شرمنده کوے په زیغ سره) په ورځ دَ جمع کیدلودَ خلقو کښ ﴿جَامِعُ﴾ په دُنیاکښ خلق په جدا جدا مکاناتوکښ اوجدا جدا زمانوکښ وؤلیکن په روزدَ قیامت به ټول په یومیدان کښ راجمع کړی۔

[۱۰] دا تزهید فی الدنیا دے اوتخویف دے منکرانودَ توحید ته ﴿اَمْوَالُهُمْ وَلَآ اَوْلَادُهُمْ﴾ یعنی که کافراومشرك شخص خپل مال خیرات کړی یا دَهغه اولاد صالح وی، یا دَ هغه نه دَمال فدیه اداکوی لیکن نه قبلیږی ﴿لَنْ تُغْنِيَ﴾ اغناء په معنیٰ دَ دفع کولو اودَ فائدے ورکولو راځی۔

[۱۱] دا ذکردَ منکرینومخکنودے دپاره دَ مثال دَ عذاب ﴿كَدَاْبِ﴾ دأب په معنیٰ دَحال اودَعادت دے ﴿وَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ﴾ من بعدهم ئے ځکه نه دے وئیلے چه دَ فرعون دَ هلاکت نه روستو په هیڅ قوم باندے استیصالی (بیخ کندے) عذاب نه دے راغلے۔

قُلْ لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا سَتُغْلَبُوْنَ وَتُحْشَرُوْنَ اِلٰى جَهَنَّمَ ؕ وَبِئْسَ الْمِهَادُ ﴿١٢﴾ قَدْ كَانَ لَكُمْ اٰيَةٌ فِيْ
فِئَتَيْنِ الْتَقَتَا ؕ فِئَةٌ تُقَاتِلُ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَاُخْرٰى كَافِرَةٌ يَّرَوْنَهُمْ مِّثْلَيْهِمْ رَاْىَ الْعَيْنِ ؕ
وَاللّٰهُ يُؤَيِّدُ بِنَصْرِهٖ مَنْ يَّشَآءُ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّاُولِي الْاَبْصَارِ ﴿١٣﴾ زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ
الشَّهَوٰتِ مِنَ النِّسَآءِ وَالْبَنِيْنَ وَالْقَنَاطِيْرِ الْمُقَنْطَرَةِ مِنَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَالْخَيْلِ
الْمُسَوَّمَةِ وَالْاَنْعَامِ وَالْحَرْثِ ؕ ذٰلِكَ مَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ وَاللّٰهُ عِنْدَهٗ حُسْنُ الْمَاٰبِ ﴿١٤﴾ قُلْ

اُوایه هغه کسانوته چه کفرئے کړے دے زردے کمزوری به کړے شئے تاسواوجمع به کړے شئے تاسوجهنم ته، اوبد ځائے تیار شوے (دا جهنم) (۱۲) یقیناً شته ستاسودپاره نښه په دوؤ ډلوکښ چه مخامخ شول یوه ډله جنګیدله په لارۀ اللّٰه تعالیٰ کښ اوبله ډله کافره وه لیدل دوی هغوی لره دوچند خپل په سترګه لیدلو سره او اللّٰه تعالیٰ مضبوطوی په مدد خپل سره چاره چه اوغواړی یقیناً په دے کښ خا مخا عبرت دے خاوندانوۀ پوهے لره (۱۳) ډولی کړے شوے ده خلقوته مینه ۀ هغه څه چه نفس ئے غواړی ۀ زنانونه او ځامن اوخزانے جمع کړے شوے ۀ سروزرونه اوسپینو زرونه او اسونه ځانسته اوځاروی اوفصلونه۔ دالګه مزه ۀ ژوند ډنیوی ده، اوۀ اللّٰه تعالیٰ سره ښه ځائے ۀ ورکړځیدلو دے (۱٤) اُوایه:

[۱۲] دا خطاب دے په باره ۀ موجوده کافرانو کښ۔ یعنی دوی ډِ هم په خپل مال اوډیرے ډلے باندے غرورنه کوی زردے چه په ډنیا کښ به مغلوب شی او په آخرت کښ به جهنم کښ داخل شی۔

[۱۳] دا ذکرۀ واقعے ۀ بدردے،مثال ۀ عذاب ۀ منکرینو اوزیرے دپاره ډمؤمنانو اواشاره ده چه ډیروالے ډافرادو هیڅ فائده نه ورکوی په وخت ۀ نزول ۀ عذاب الٰهی کښ۔ مؤمنانو لیدل کافرانولره ۀ ځان نه دوچند، یعنی ډیر زیات په اول حال کښ اوکافرانو لیدل مؤمنانو لره ډیر زیات په آخری حال کښ او ۀ منیځ حال سورۀ انفال(٤٤)کښ ذکردے۔ نوپه دے آیت کښ یرونهم، کښ ضمیر ۀ فاعل مؤمنانوته اوضمیرۀ مفعول کافرانوته راجع دے اوپه عکس سره دواړه جائزدی ﴿لَعِبْرَةً﴾ په دے کښ تنوین دپاره ۀ تعظیم دے یعنی ۀ هدایت اوبصیرت دپاره لوئے سبق دے۔

[۱٤] په دے ایت کښ تذلیل ۀ ډنیا ذکرشوے دے اشاره ده چه ډیروالے ۀ مالونوهم فائده نه ورکوی مطلب دا دے چه محبت طبعی ۀ دے څیزونو (اګرکه بے اختیاره دے) لیکن هغے لره غوره والے ورکول او ترجیح ورکول دیته تزیین وائی﴿مَتَاعُ﴾ هغه مرداره ده چه خوری هغے لره مجبوره سړے په وخت ۀ مجبورئے کښ (نظم الدرر) ﴿زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ الشَّهَوٰتِ﴾ هغه څیزونه چه ۀ انسان طبیعت اونفس ئے غواړی اوهغه بے اختیاره وی لیکن هغه غوره کول ۀ آخرت اوۀ دین په څیزونوباندے ګناه دے اوبیا په هغے کښ ۀ ځان دپاره فائدے ګنړل چه تزیین دے ډیرګناه دے۔ اوپه دے کښ اووه څیزونه په ترتیب سره ذکرکړی دی۔

اَؤُنَبِّئُكُمْ بِخَيْرٍ مِّنْ ذٰلِكُمْ ؕ لِلَّذِيْنَ اتَّقَوْا عِنْدَ رَبِّهِمْ جَنّٰتٌ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا وَاَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ وَّرِضْوَانٌ مِّنَ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ بَصِيْرٌۢ بِالْعِبَادِ ﴿١٥﴾ اَلَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَاۤ اِنَّنَاۤ اٰمَنَّا فَاغْفِرْ لَنَا ذُنُوْبَنَا وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴿١٦﴾ اَلصّٰبِرِيْنَ وَالصّٰدِقِيْنَ وَالْقٰنِتِيْنَ وَالْمُنْفِقِيْنَ وَالْمُسْتَغْفِرِيْنَ بِالْاَسْحَارِ ﴿١٧﴾ شَهِدَ اللّٰهُ اَنَّهٗ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۙ وَالْمَلٰٓئِكَةُ وَاُولُوا الْعِلْمِ قَآئِمًۢا بِالْقِسْطِ ؕ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿١٨﴾ اِنَّ الدِّيْنَ عِنْدَ اللّٰهِ الْاِسْلَامُ ۗ وَمَا اخْتَلَفَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ اِلَّا

النصف

آیاخبر کړم تاسوپه غوره سره دَ دے (دُنیوی) ځیزونونه دپاره دَ هغه چاچه شرك نه ئے ځان بچ کړے دے په نیزدَ رب دَ دوی جنتونه دی بهیږی دَ لاندے دَ هغے نه ولے، همیشه به وی په هغے کښ اوبیبانے پاکے ساتلے شوے دی اورضامندی دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه اواللّٰه تعالیٰ لیدونکے دے بندګانوخپلولره (۱۵) دوی هغه کسان دی چه وائی اے ربه ځمونږ: یقیناً مونږ ایمان راوړے دے پس اوبخے مونږته ګناهونه ځمونږ اوبچ اوساتے مونږدَ عذاب دَ اورنه (۱۶) دوی صبرناك دی او رشتیاویونکی دی اوتابعداری کوونکی دی اوخرچ کؤونکی دی اوبخنه غوښتونکی دی په وخت دَ پیشمنی کښ (چربانګ) (۱۷) بیان کړے دے اللّٰه تعالیٰ چه نیشته حقدارَ بندګئے سیوا دَ هغه نه اوملائکو اوعلم والا کلك دی په انصاف نیشته حاجت پوره کؤونکے سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه زور اوردے حکمتونو والادے (۱۸)یقیناً دین (غوره) په نیزدَ اللّٰه تعالیٰ اسلام دے (توحید) اواختلاف نه دے کړے (دَ توحید نه) هغه کسانوچه ورکړے شوے دے هغوی ته کتاب مګر

[۱۵] دے ایت کښ زیرے دے دپاره دَ منونکودَ توحید۔ اودا په مقابله دَ ځیزونو دَ دُنیا کښ دے لیکن په آخرت کښ دَ جنتونو دَ حصول دپاره اول تقویٰ (دَشرك نه بچ کیدل) ضروری دی چه دا اوله مرتبه دَ ایمان ده۔

[۱۶] دا صفت دَنیکانوبندګانودے په عجزدَ دوی سره اللّٰه تعالیٰ ته اوتوبه کول دَ تیرشوی ګناهونونه او اشاره ده چه ایمان بهتره وسیله ده په دے کښ۔

[۱۷] دا پنځه صفات دَ نیکانو دی دپاره دَ ابتدائی دخول دَ جنت او مخکښ ایت کښ صرف تقویٰ ذکروه یعنی ایمان چه سبب دَ دخول دے مطلقا په دے کښ صبرعبادت دَ زړه دے، او صدق عبادت دَ ژبے دے اوقنوت عبادت دَ اندامونو دے،او انفاق عبادت مالیه دے، اواستغفارپه وخت دَ پیشمنی کښ تتمه دَ پولوعبادتونو ده، نو په دے کښ ذکر دَ عبدیت کامله دے چه د دے اول مصداق صحابه کرام وؤ او دا صفتونه په نصاراؤ کښ نه وؤ۔

[۱۸] دَ دے ایت نه تر(۳۵) پورے دویم باب دے په دے کښ مسئله دَتوحید اوپه هغے دلیلونه اونتیجه په یو ایت کښ۔ بیا جواب دَ سوال، بیاطریقه دَ دعوت اوتکالیف دَ دعوت سرهٗ دَ تخویف اُخروی دَ مخالفت کوؤنکوبیا ذکردَ حال دَ مخالفت کولودَ اهل کتاب اوتخویف دَ اخرت دے۔ په دے ایت کښ په دعویٰ دَ توحید دلیل وحی دے شهادت دَ اللّٰه تعالیٰ او دلیل نقلی دے شهادت دَملائکواودَ مؤحدینومخکنو اودلیل

مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَهُمُ الْعِلْمُ بَغْيًۢا بَيْنَهُمْ ؕ وَمَنْ يَّكْفُرْ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ فَاِنَّ اللّٰهَ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ﴿١٩﴾
فَاِنْ حَآجُّوْكَ فَقُلْ اَسْلَمْتُ وَجْهِيَ لِلّٰهِ وَمَنِ اتَّبَعَنِ ؕ وَقُلْ لِّلَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ وَالْاُمِّيّٖنَ
ءَاَسْلَمْتُمْ ؕ فَاِنْ اَسْلَمُوْا فَقَدِ اهْتَدَوْا ۚ وَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنَّمَا عَلَيْكَ الْبَلٰغُ ؕ وَاللّٰهُ بَصِيْرٌۢ بِالْعِبَادِ ﴿٢٠﴾ اِنَّ
الَّذِيْنَ يَكْفُرُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَيَقْتُلُوْنَ النَّبِيّٖنَ بِغَيْرِ حَقٍّ ۙ وَّيَقْتُلُوْنَ الَّذِيْنَ يَاْمُرُوْنَ بِالْقِسْطِ
مِنَ النَّاسِ ۙ فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ ﴿٢١﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ۫

روستودَ هغے نه چه راغے دوی ته علم (دَ توحید) دَ وجے دَ ضدنه په مینځ دَ دوی کښ اوچاچه کفراوکړو په ایاتونودَ الله تعالیٰ پس یقیناً الله تعالیٰ زر حساب کؤونکے دے (۱۹)پس که دوی بحث کوی تاسره پس اُوایه چه تابع کړے دے ماځان خپل الله تعالیٰ ته (په توحید سره) اوځوك چه ځما تابع داروی، او اُوایه هغه کسانوته چه ورکړے شوے دے هغوی ته کتاب اوامیانوته:آیاتاسودین دَ توحید منئے؟ پس که دوی اومنو (توحید) پس یقیناً هدایت ئے اومونډو اوکه دوی مخ اوګرځوو پس یقیناً په تا باندے رسوَل دی، اوالله تعالیٰ لیدونکے دے بند ګانو لره (۲۰) یقیناً هغه کسان چه کفرئے کړے دے په آیاتونودَ الله تعالیٰ او وژلی دی پیغمبران بغیرَ جرم شرعی نه اووژلی دی هغه کسان چه بیان کوی دَ انصاف (دین توحید) دَ خلقونه پس زیرے ورکړه دوی لره په عذاب درد ناك سره(۲۱) داهغه کسان دی چه برباد شوی دی عملونه دَ دوی په دُنیا کښ اوآخرت کښ

عقلی دے په لفظ دَ بِالْقِسْطِ سره چه دا دَ عقل په نیزدَانصاف خبره ده۔ اوبیا نتیجه ذکرده اوشهادت دَ الله تعالیٰ کتابونه نازلول او دلیلونه قائم کول دی په اثبات دَتوحید باندے۔ او دا آیت دلیل دے په شرافت او فضیلت دَ علماؤ موحدینو چه الله تعالیٰ دَ هغوی شهادت دَ خپل شهادت سره یوځائے ذکرکړے دے۔

[۱۹] داجواب دَسوال دے هغه دا دے چه بعض کتابونوکښ بندګئ دَ غیرالله اوبلنه دَ غیرالله وغیره جائزلیکلی دی آیا هغه غلط دی؟ دَجواب حاصل دا دے چه دین دَالله تعالیٰ توحید دے نوکوم عبادتونه یاکتابونه چه دَ دے خلاف دی هغه بعضو ملایانوپس دَ علم نه په ضد اوعناد دَځان نه جوړ کړی دی نوهغه باطل دی ﴿بِاٰيٰتِ اللّٰهِ﴾ مراد دَ دے نه آیاتونه او دلیلونه دَ توحید دی او هغه ځوك چه دا پریږدی دَ وجے دَ اقوالودَباغیانونه نودا کفردے۔

[۲۰] دے ایت کښ دَ دعوت طریقه ده یعنی ملایان اوامیانوته اول دَتوحید دعوت ورکړئے ﴿فَاِنْ حَآجُّوْكَ﴾ یعنی دوی په حجت کښ اقوال دَ باغیانو پیش کوی دپاره دَ اثبات دَشرك اوکفر ﴿فَقُلْ اَسْلَمْتُ﴾ په دے کښ ذکردَعقیدے اودَمسلك خپل دے اشاره ده چه ځه خوپه مقابله دَوحی دَالله تعالیٰ کښ دَ بل چاقول نه منم ﴿فَقَدِاهْتَدَوْا﴾ یعنی دَ صحیح اسلام دَمنلونه روستو مونږ دَ چا مقابلے نه کوؤ دغه صحیح دین دے۔

[۲۱] په دے کښ ذکر دَ حال دَ باغیانو کتابیانو دے او هغوی ته تخویف ورکول دی ﴿بِاٰيٰتِ اللّٰهِ﴾ دَ توحید ایاتونه په خپل کتاب کښ هم نه منی هرکله چه انبیاء اونورحق والا علماء دوی ته دَ توحید دعوت

وَمَا لَهُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ﴿٢٢﴾ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ اُوْتُوْا نَصِيْبًا مِّنَ الْكِتٰبِ يُدْعَوْنَ اِلٰى كِتٰبِ اللّٰهِ
لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ يَتَوَلّٰى فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ وَهُمْ مُّعْرِضُوْنَ ﴿٢٣﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَالُوْا لَنْ تَمَسَّنَا النَّارُ
اِلَّآ اَيَّامًا مَّعْدُوْدٰتٍ ۖ وَّغَرَّهُمْ فِيْ دِيْنِهِمْ مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴿٢٤﴾ فَكَيْفَ اِذَا جَمَعْنٰهُمْ لِيَوْمٍ لَّا
رَيْبَ فِيْهِ ۗ وَوُفِّيَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿٢٥﴾ قُلِ اللّٰهُمَّ مٰلِكَ الْمُلْكِ تُؤْتِي الْمُلْكَ
مَنْ تَشَآءُ وَتَنْزِعُ الْمُلْكَ مِمَّنْ تَشَآءُ ۚ وَتُعِزُّ مَنْ تَشَآءُ وَتُذِلُّ مَنْ تَشَآءُ ۭ بِيَدِكَ الْخَيْرُ ۭ اِنَّكَ

اونیشته دوی لره هیڅوك مددګاران (۲۲) آیانه ګورے هغه کسانوته چه ورکړے شوے ده ورته برخه دَکتاب نه رابللے کیدے شی کتاب دَ اللّٰه تعالیٰ ته دپاره دَ دے چه فیصله اوکړی دَ دوی په مینځ کښ بیا مخ واړه ؤویوے ډلے دَ دوی نه اودوی همیشه مخ اړه وی (دَ حق نه) (۲۳) دا په دے سبب چه دوی وائی هیڅرے به اونه رسی مونږته اور مګریوځورونځے شمارلے شوے اودهوکه کړی دی دوی په باره دَ دین دَ دوی کښ هغه (قصواومسئلو) چه (لویوملایانو) دَ ځان نه جوړے کړے دی (۲٤) پس څنګه حال دَ دوی به وی کله چه راجمع کړومونږ دوی هغه ورځ کښ چه شك نیشته په هغے کښ، اوپوره به ورکړے شی هرنفس ته (بدله) دَ هغه عمل چه دهٔ کړے وی اوپه دوی باندے به ظلم نه شی کیدے (۲۵) (اُوایه هرحاجت کښ) اے اختیارمند دَ بادشاهئے ورکوے ته بادشاهی چا ته چه اوغواړے او اخلے بادشاهی دَ هغه چانه چه اوغواړے اوعزت ورکوے هغه چالره چه اوغواړے اوذلت ورکوے هغه چاله چه اوغواړے ستا په لاس کښ ټول خیرد ے یقیناً ته

ورکوی نو هغوی قتل کوی۔

[۲۲] په دے کښ جواب دَوهم دَ دوی دے چه دَ دے ملایانوخونیك عملونه شته دے نوځرنګ دوی لره عذاب دے؟ جواب دا دے چه هغه برباد شوی دی په سبب دَکفربالآیات سره۔ دُنیوی بربادی دا ده چه هغه عملونه دَ دوی په صفت کښ نشی ذکرکیدلے۔

[۲۳] محکښ ایت کښ دَلویو ملایانو حال ذکرشوچه هغوی دَ بغی دَوجے نه دین بدل کړے دے اودَشرك دَنفی دَاثبات دپاره ئے کتابونه لیکلی دی نواوس پدے کښ ذکردَ وروملایانودے چه هغوی دَ لویوملایانوپه دروغوجوړشوی مسئلواوقصوپسے تقلید کوی اودَکتاب اللّٰه نه مخ اړوی ﴿وَهُمْ مُّعْرِضُوْنَ﴾ اشاره ده چه دَ حق نه اعراض کول دَ دوی عادت ګرځیدلے دے ﴿نَصِيْبًا﴾ مراد دا چه دَکتاب په عبارت لوستلو پوهیږی لیکن دَ هغے په معنیٰ اومقصد نه پوهیږی۔

[۲٤] په دے آیت کښ دَ دوی دَ مخ اړه ولو دوه سببه ذکرکړل یو داچه مونږجنتیان یوصرف دَ بعضوورځناهونوپه وجه کیدے شی چه اور ته لاړشو دویم دَ زړو ملایانو دروغ جوړشوے مسئلے او قصے دَ دوی دلیل دے ﴿يَفْتَرُوْنَ﴾ ضمیر راجع دے غټوملایانوته ﴿اَيَّامًا مَّعْدُوْدٰتٍ﴾ په سورة بقره (۸۰) کښ مفرد ذکر کړے وؤ دَ هغے وجه هلته ذکرشویده۔

[۲۵] دے ایت کښ ویره دَ اخرت ذکرشوے ده ﴿فَكَيْفَ﴾ په دے کښ هیبت شان دَ قیامت ته اشاره ده

عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿٢٦﴾ تُوْلِجُ الَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَتُوْلِجُ النَّهَارَ فِي الَّيْلِ ۚ وَتُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَ
تُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ ۚ وَتَرْزُقُ مَنْ تَشَآءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿٢٧﴾ لَا يَتَّخِذِ الْمُؤْمِنُوْنَ الْكٰفِرِيْنَ اَوْلِيَآءَ
مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ ۚ وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ فَلَيْسَ مِنَ اللّٰهِ فِيْ شَيْءٍ اِلَّآ اَنْ تَتَّقُوْا مِنْهُمْ تُقٰىةً ؕ
وَيُحَذِّرُكُمُ اللّٰهُ نَفْسَهٗ ؕ وَاِلَى اللّٰهِ الْمَصِيْرُ ﴿٢٨﴾ قُلْ اِنْ تُخْفُوْا مَا فِيْ صُدُوْرِكُمْ اَوْ تُبْدُوْهُ يَعْلَمْهُ

په هرڅه قدرت لرے (٢٦) ننه باسے شپه په ورځ کښ اوننه باسے ورځ په شپه کښ اورا اوباسے ژوندے د مړنه اورا اوباسے مړه د ژوندی نه، اورزق ورکوے هغه چاته چه اوغواړے بے حسابه (٢٧) نه د نیسی مؤمنان کافرانولره دوستان سیوا د مؤمنانونه اوچاچه اوکړو داکار پس نه دے د الله تعالیٰ (د ډلے نه) په هیڅ کښ مګرکه ځان ساتے د دوی نه ځان ساتل، او ویره وی الله تعالیٰ تاسود ځان نه اوخاص الله تعالیٰ ته دی ګرځیدل ستاسو (٢٨) اُوایه که پټ ساتئے هغه چه په سینو ستاسوکښ دی یا ښکاره کوئ پوهه دے په هغے

﴿لِيَوْمٍ﴾ لام په معنیٰ د فِیْ سره دے۔

[٢٦] د دے آیت نه تر(٦٣) پورے دریم باب دے په دے کښ مسئله د توحید په ذکرد صفاتو د الله تعالیٰ ده ۔ بیاحکم په دوستانه پریخودلو د کافرانو او په هغے باندے تخویف، بیاترغیب په تابعداریٔ د رسول ﷺ سره، بیا بیان د عبدیت او د عجز د انبیاؤاوعجزدَمورد مریم اوعجزدَزکریا علیه السلام اوعجزدَمریم علیهاالسلام اوتفصیلی بیان دَعبدیت دَعیسیٰ علیه السلام په پنځه ویشتوصفاتو سره۔ اوجوابات دَسوالاتو(١) مریم له ے موسمه میوه ملاؤشوه (٢) د زکریا علیه السلام ے موسمه ځوی اوشو (٣) عیسیٰ علیه السلام مړی ژوندی کول اواکمه اوابرص ئے جوړول (٤) د مریم ے نارینه ولد او شو (٥) عیسیٰ علیه السلام ے پلاره پیدا شو، د دے نه معلومیږی چه مریم علیها السلام، زکریا علیه السلام عیسیٰ علیه السلام واکدار وؤ او د بندګئے لائق وؤ۔ دَالله تعالیٰ سره شریك وؤ۔ د دے ټولو سوالاتو جوابونه په دے باب کښ کیږی۔

[٢٧،٢٦] په دے دواړه کښ دولس صفات دَالله تعالیٰ دی، مطلب دا دے په هرحاجت اومصیبت کښ الله تعالیٰ ته آواز کوئے۔ اودا توحید فی الربوبیة دے ځکه چه مقصد نفی د دے صفتونو ده د عیسیٰ اود مریم علیهما السلام نه ﴿وَتُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَتُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ﴾ دلته حی اومیت عام دی ولد د نطفے نه، ولد د اکئے نه، عالم دَجاهل نه، مؤحد د مشرك نه، شنه بوټی د اوچے زمکے نه، اوشنه بوټی د اوچ تخم نه، اود دے ټولوبرعکس ته شامل دی۔

[٢٨] دوستانه د کافرانو سره په درے طریقے ده (١) په عمل د کفراود شرك کښ مشابهت اوشرکت کول اودا کفردے۔ (٢) په عمل د کفر اوشرك او ګناهونو کښ امداد کول دا ګناه کبیره دے۔ (٣) د کافر اوبدعتی وغیره عزت اوتوقیرکول داهم ګناه دے ﴿اِلَّآ اَنْ تَتَّقُوْا مِنْهُمْ تُقٰىةً﴾ د دینه مراد حالت د اکراه دے چه د هغے تفصیل په سورة نحل (١٠٦) کښ دے ﴿نَفْسَهٗ﴾ د نفس اطلاق په الله تعالیٰ باندے حقیقةً دے بغیرد تشبیه اوتمثیل اوتحریف اوتاویل نه۔

اللّٰهُ ؕ وَيَعْلَمُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۲۹﴾ يَوْمَ تَجِدُ كُلُّ نَفْسٍ
مَّا عَمِلَتْ مِنْ خَيْرٍ مُّحْضَرًا ۚ وَّمَا عَمِلَتْ مِنْ سُوْٓءٍ ۚ تَوَدُّ لَوْ اَنَّ بَيْنَهَا وَبَيْنَهٗٓ اَمَدًا بَعِيْدًا ؕ
وَيُحَذِّرُكُمُ اللّٰهُ نَفْسَهٗ ؕ وَاللّٰهُ رَءُوْفٌ بِالْعِبَادِ ﴿۳۰﴾ قُلْ اِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُوْنِيْ يُحْبِبْكُمُ اللّٰهُ
وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۳۱﴾ قُلْ اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ ۚ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنَّ اللّٰهَ

معانقہ ۲ = ۲۰۲

اللّٰه تعالیٰ څکه چه پوهه دے په هغه څه چه دی په آسمانونو کښ او هغه څه چه په ځمکه کښ دی او اللّٰه تعالیٰ په هرڅه باندے قدرت لرونکے دے (۲۹) په کومه ورځ چه اوموميٰ هر نفس هغه عمل چه کړے وی دهٔ خیرحاضر اوهغه عمل چه دهٔ کړے وی دَ بدئے نه غواړی چه وے په مینځ دَ دے نفس اودَ دے عمل کښ مزل لرے او ویره وی تاسو لره اللّٰه تعالیٰ دَ ځان نه، اواللّٰه تعالیٰ ډیر مهربان دے پخپلو بندګانو (۳۰)اُوایه که تاسومینه کوئے دَ اللّٰه تعالیٰ سره پس تابعداری اوکړئے ځما، مینه به اوکړی تاسوسره اللّٰه تعالیٰ اوبخنه به اوکړی تاسوته دَګناهونوستاسو اواللّٰه تعالیٰ بخونکے رحم کؤونکے(۳۱) اُوایه تابعداری کوئے دَ اللّٰه تعالیٰ اودَ رسول پس که مخ واړه وو تاسوپس یقیناً اللّٰه تعالیٰ

[۲۹] په دے کښ زورنه ده هغه چاته چه دَکافرانوسره دوستی کوی پته کوی یا ښکاره کوی او په دے ایت کښ صفت دَ علم اودَقدرت دَ اللّٰه تعالیٰ ذکردے چه دا خلاصه ده دَصفاتو۔

[۳۰] دے ایت کښ تخویف اُخروی دے هغه چالره چه دوستانه کوی دَکافرانوسره ﴿مِنْ خَيْرٍ﴾ او﴿مِنْ سُوْٓءٍ﴾ بائیکاټ کول دَکافرانونه خیردے اودوستانه ساتل دَهغوی سره سوء دے اوهرخیراوسوء ته هم شامل دی ﴿بَيْنَهَا وَبَيْنَهٗٓ﴾ ضمیرد َها نفس ته راجع اوضمیر دَ (ه) سوء ته راجع دے یا یوم ته ﴿يُحَذِّرُكُمُ اللّٰهُ نَفْسَهٗ﴾ مخکے تحذیر دَ دوستانے دَکافرانو سره متعلق وؤ او دا تحذیر دَ اعمالودَ خیرسره تعلق لری۔

[۳۱] دے ایت کښ ترغیب دے په محبت دَ اللّٰه تعالیٰ په ذریعه دَ تابعداریٔ دَ نبیﷺ اوتابعداریٔ دَنبیﷺ کښ ئے دوه فائدے بیان کړی دی یو محبت دَ اللّٰه تعالیٰ دویم مغفرت دَګناهونو، په دے ایت کښ رد دے په هغه چا باندے چه دعویٰ کوی دَ محبت دَ اللّٰه تعالیٰ اوخلاف کوی دَطریقے دَنبیﷺ نه دغه جاهلان پیران اوملنګان دی۔ اورد دے په هغه چاچه ثواب غواړی دَاللّٰه تعالیٰ نه اودَ هغه عمل خلاف وی دَ طریقے دَ نبیﷺ نه لکه بدعتیان ملایان او امیان شول۔ محبت دَ اللّٰه تعالیٰ دَ هغه سره نزدیکت ته وائی، دارنګ دَهغه نه امید دَثواب لرل۔ نودا رد دے په هغه چاچه اللّٰه تعالیٰ ته وسیله کوی طریقے دَشرك اودَ بدعاتو اوحال داچه وسیله اللّٰه تعالیٰ ته تابعداری دَ نبیﷺ ده۔

فائده: اتباع وئیلے کیږی په عمل کښ اوپه طریقه کښ په چاپسے تلل او اطاعت وئیلے کیږی په وینا کښ تابعداری کول یعنی وینا منل ۔اوکله اطاعت عام مستعملیږی۔

لَا يُحِبُّ الْكٰفِرِيْنَ ﴿٣٢﴾ اِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰٓى اٰدَمَ وَنُوْحًا وَّاٰلَ اِبْرٰهِيْمَ وَاٰلَ عِمْرٰنَ عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴿٣٣﴾ ذُرِّيَّةًۢ
بَعْضُهَا مِنْۢ بَعْضٍ ؕ وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿٣٤﴾ اِذْ قَالَتِ امْرَاَتُ عِمْرٰنَ رَبِّ اِنِّيْ نَذَرْتُ لَكَ
مَا فِيْ بَطْنِيْ مُحَرَّرًا فَتَقَبَّلْ مِنِّيْ ۚ اِنَّكَ اَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿٣٥﴾ فَلَمَّا وَضَعَتْهَا قَالَتْ رَبِّ
اِنِّيْ وَضَعْتُهَآ اُنْثٰى ؕ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا وَضَعَتْ ؕ وَلَيْسَ الذَّكَرُ كَالْاُنْثٰى ۚ وَاِنِّيْ سَمَّيْتُهَا مَرْيَمَ وَاِنِّيْٓ

مینه نه کوی دَکافرانوسره (۳۲) یقیناً اللّٰه تعالیٰ غوره کړے دے آدم(علیه السلام) اونوح(علیه السلام) اواولاد دَ ابراهیم(علیه السلام) اواولاد دَ عمران(علیه السلام) په ټولوخلقوباندے (۳۳) نسل دے بعضے دَ دوی پیدا شویدی دَ بعضونه، اواللّٰه تعالیٰ هرڅه اوری په هرڅه پوهه دے (۳٤) کوم وخت چه اوویل ښځے دَ عمران: اے ربه یقیناً منخته او کړه ماتاله دَ هغے چه په ګیلپه ځما دی آزاد (دَ دُنیا دَکارنه) پس قبول کړے ځمانه یقیناً ته هرڅه اورے په هرڅه پوهیږے (۳۵) پس هرکله چه اوزیږ وله هغے جینئ اوویل: اے ربه یقیناً اوزیږ وله ما دا جینئ اواللّٰه تعالیٰ ښه خبرؤو په هغه چه دے اوزیږوله اونه دے هغه نارینه (چه دے غوختلے ؤو) پشان دَ زنانه (چه دے له ورکړے شوے وه) اویقیناً نوم کیخودوما دیته مریم اویقیناً ځه

[۳۲] دے ایت کښ اشاره ده چه دَ اطاعت دَ اللّٰه او دَ رسول نه مخ اړول کفردے په طریقه دَ انکارکولو اوسپك ګڼړلوسره۔

[۳۳] په دے آیت کښ رد دے په نصاریٰ باندے چه عیسیٰ(علیه السلام) پشت په پشت دَ انسانانونه پیداشوے دے نو ولد دَ اللّٰه تعالیٰ یا اله ګڼګه کیدے شی، بل بیان دَ عبدیت او دَ عجز دَ ټولو انبیاؤ دے سرهٔ دَ فضیلت دَ هغوی نه اواشاره ده دیته چه فضیلت دَ انسان هغه لره الوهیت ته نه رسوی۔

فائده: دا ځلورئے خاص کړل ځکه چه دوی دَ پیغمبرانو آباوؤ۔ آدم(علیه السلام) دَ ټولو انسانانوپلاردے او نوح(علیه السلام) روستودَغرق دَ قوم نوح نه دَ انسانانو پلار وؤ ټول نسل په دُنیا صرف دَ دهٔ نه وؤ۔ ابراهیم پلاردَ انبیاؤدے که بنی اسرائیل دی اوکه بنی اسماعیل دی اوعمران پلاردَ انبیاؤ دَ بنی اسرائیلودے روستو دَ موسیٰ(علیه السلام) نه۔

[۳٤] ولادت دلیل دَ عبدیت دے۔ دَ ﴿ذُرِّيَّةً﴾ اطلاق په اولاد اوپه جنس دَ انسانانو باندے هم کیږی۔ اوپه اوله معنیٰ دا بدل دے دَ نوحاً نه اوپه دویمه معنیٰ بدل دے دَ آدم نه۔

[۳۵] په دے واقعه کښ عجز اوعبدیت دَ مور دَمریم علیها السلام او دَ نیا دَ عیسیٰ(علیه السلام) ذکرکوی (۱) هغه داچه دوی اولاد دَاللّٰه تعالیٰ نه غواړی۔(۲) اودوی نذردَاللّٰه تعالیٰ په نوم باندے کوی۔ (۳) او دوی په اللّٰه تعالیٰ زور اورنه دی۔ (٤) اوپناهی دَ اولاد دپاره په اللّٰه تعالیٰ سره غواړی اوپه غیبونه پوهیږی۔ نودوی آلهه نشی کیدلے ﴿مُحَرَّرًا﴾ آزاد دَکارونو دَ دنیا نه صِرف دَ دین دَ ایزده کولو اودَ خورولودَپاره او داسے نذرکول دَ هغوی په ملت کښ جائزوؤ اوزمونږپه ملت کښ نذر بغیر دَ ملك نه نه کیږی اومور اوپلاردَ اولاد مالکان نه دی۔

أُعِيذُهَا بِكَ وَذُرِّيَّتَهَا مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيمِ ﴿٣٦﴾ فَتَقَبَّلَهَا رَبُّهَا بِقَبُولٍ حَسَنٍ وَّأَنۢبَتَهَا نَبَاتًا
حَسَنًا ۙ وَّكَفَّلَهَا زَكَرِيَّا ۖ كُلَّمَا دَخَلَ عَلَيْهَا زَكَرِيَّا الْمِحْرَابَ ۙ وَجَدَ عِندَهَا رِزْقًا ۚ قَالَ يٰمَرْيَمُ أَنّٰى
لَكِ هٰذَا ۖ قَالَتْ هُوَ مِنْ عِندِ اللّٰهِ ۖ إِنَّ اللّٰهَ يَرْزُقُ مَن يَّشَآءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿٣٧﴾ هُنَالِكَ دَعَا
زَكَرِيَّا رَبَّهُ ۚ قَالَ رَبِّ هَبْ لِي مِن لَّدُنكَ ذُرِّيَّةً طَيِّبَةً ۚ إِنَّكَ سَمِيعُ الدُّعَآءِ ﴿٣٨﴾ فَنَادَتْهُ الْمَلٰٓئِكَةُ

پناهی غواړم دے لره په تاسره او اولاد دَ دے لره دَ شیطان رټلے شوی نه (٣٦) پس قبول کړه هغه رب دَ هغے په قبلولو خائسته اووے توکولو خائسته اووے سپارله هغه زکریا(علیه السلام) ته هروخت چه داخل به شوهغے ته زکریا(علیه السلام) عبادت خانے ته اووے به موندو دَ هغے سره رزق، اُویل هغه اے مریم دَکوم ځائے نه تالره دا رزق دے اُویل هغے دا دَ طرف دَ اللّٰه تعالیٰ نه دے یقیناً اللّٰه تعالیٰ رزق ورکوی چاته چه اوغواړی بے حسابه (٣٧) دَ دے وجے نه دُعا اوغوختله زکریا(علیه السلام) دَ رب خپل نه اُویل دهٔ اے ربه ځما را اوبخے ماته دَ خپل (رحمت دَ وجے نه) ځوئے پاك یقیناً ته قبلوونکے دَ دُعائے (٣٨) پس آواز اوکړودهٔ ته ملائکو

[٣٦] په دے کښ وضع دَ مریم اودَ هغے نوم کیخودل اوتعوذ ذکرکوی ﴿رَبِّ إِنِّي وَضَعْتُهَآ﴾داجمله په طریقه دَافسوس سره ده ﴿وَاللّٰهُ أَعْلَمُ بِمَا وَضَعَتْ﴾ ما ابهامیه دے اشاره ده عظمت شان دَ مریم ته اوجمله معترضه ده اوتسلی ده موردَ مریم ته او الف لام په الذکرالانثیٰ کښ دپاره دَ عهد دی یعنی هغه نارینه پشان دَ دے زنانه نشی کیدلے اوپه دے ایت کښ اشاره ده چه دَاولاد دپاره نوم زرکیخودل پکاردی ﴿ذُرِّيَّتَهَا﴾ په دے کښ جامعه دُعا ده چه یا اللّٰه لوے ئے کړے اواولاد ورله ورکړے چه بچ وی دَشیطان نه۔

[٣٧] پدے کښ فضیلت دَ مریم ذکرکوی په پنځه طریقوسره(١)قبولیت خائسته یعنی دَ دین دپاره قبلیدل(٢) خائسته لوئیدل (٣) اوکفالت دَ زکریا علیه السلام هغے لره (٤) بے اسبابو رزق راتلل چه داکرامت دَ ولی دے اومعجزه دَ پیغمبر ده (٥) پوهه دَ هغے ځکه چه نسبت دَ رزق ئے اللّٰه تعالیٰ ته اوکړو دَخپل کمال دعویٰ ئے اونکړه۔

فائده: محراب وائی عبادت خانه دَپیشوا دَ قوم، اوداپه دین دَ بنی اسرائیلو کښ جائز وه دَ دے نه مراد ځمونږ دَ مسجدونو محراب ندے بلکه داځو په زمانه دَتابعینو کښ محدث دے لیکن دیته بدعت فی الوسائل (لغیره وائی دا جائزدے کله چه دَ دے ذات بعینه ثواب نه گنړی)۔

[٣٨] پدے کښ عجز دَ زکریا علیه السلام ذکرکوی۔ دُعا غوختل صرف دَ اللّٰه تعالیٰ نه دَ اولاد دَ پیدائش دَپاره اوعالم الغیب ندے ځکه نخه طلب کوی ﴿هُنَالِكَ﴾ یعنی هرکله چه زکریا علیه السلام پوهه شوچه دَ عمران په کورکښ نارینه اولاد اونشو او دَ زکریا علیه السلام په کورکښ هم نیشته او دَدین دَ اشاعت دَپاره نارینه پکاردے نو دَ دے وجے نه زکریا علیه السلام دَ نارینه اولاد دَپاره دُعا اوکړه ﴿هُنَالِكَ﴾ په معنیٰ دَ دغے وجے نه ﴿مِن لَّدُنكَ﴾ دا لفظ هم په قطع دَ اسبابوباندے دلالت کوی ﴿طَيِّبَةً﴾ فائده مند (دین خوروؤنکے) ﴿إِنَّكَ سَمِيعُ الدُّعَآءِ﴾ داوسیله ده دَ دغه دُعا دَپاره په صفت دَ اللّٰه تعالیٰ سره۔

وَهُوَ قَآئِمٌ يُّصَلِّيْ فِي الْمِحْرَابِ ۙ اَنَّ اللّٰهَ يُبَشِّرُكَ بِيَحْيٰى مُصَدِّقًا بِكَلِمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ وَسَيِّدًا وَّحَصُوْرًا
وَّنَبِيًّا مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿٣٩﴾ قَالَ رَبِّ اَنّٰى يَكُوْنُ لِيْ غُلٰمٌ وَّقَدْ بَلَغَنِيَ الْكِبَرُ وَامْرَاَتِيْ عَاقِرٌ ؕ
قَالَ كَذٰلِكَ اللّٰهُ يَفْعَلُ مَا يَشَآءُ ﴿٤٠﴾ قَالَ رَبِّ اجْعَلْ لِّيْٓ اٰيَةً ؕ قَالَ اٰيَتُكَ اَلَّا تُكَلِّمَ النَّاسَ
ثَلٰثَةَ اَيَّامٍ اِلَّا رَمْزًا ؕ وَاذْكُرْ رَّبَّكَ كَثِيْرًا وَّسَبِّحْ بِالْعَشِيِّ وَالْاِبْكَارِ ﴿٤١﴾ وَاِذْ قَالَتِ الْمَلٰٓئِكَةُ
يٰمَرْيَمُ اِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰكِ وَطَهَّرَكِ وَاصْطَفٰكِ عَلٰى نِسَآءِ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٤٢﴾ يٰمَرْيَمُ اقْنُتِيْ لِرَبِّكِ

اودے ولاړ ژومونځ ئے کړوپه عبادت خانه کښ چه یقیناً اللّٰه تعالیٰ زیرے درکوی تاله په یحییٰ سره تصدیق کړونکے به وی دَکلمے دَ اللّٰه تعالیٰ اوسرداربه وی اوپاکباز به وی اوپیغمبربه وی دَکاملو نیکانونه به وی (۳۹) اُویل زکریا(علیه السلام): اے ربه ځما په کومه طریقه به کیږی ځما هلك اویقیناً رسیدلے دے ماته بوډاوالے اوښځه ځما شنډه ده، اُویل (ملك) دغسے (به ئے ته) اللّٰه تعالیٰ کوی چه څه اوغواړی (٤٠) اُویل دهٔ اے ربه: جوړه کړه مالړه یوه نښه، اُویل (ملك) نښه ستا داده چه خبرے به نشے کولے دَ خلقو سره درے ورځے مګرپه اشاره، اویادوه رب خپل ډیر، اوپاکی وایه بیګاه اوصبا(٤١) اوکوم وخت چه اُویل ملائکو اے مریم یقیناً اللّٰه تعالیٰ غوره کړے ئے ته اوپاکه ساتلے ئے ته اوغوره والے درکړے دے تاته په زنانو دَ خلقوباندے (٤٢) اے مریم تابعداری کوه دَ رب خپل

[۳۹] ﴿بِكَلِمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ﴾ مراد دا دے چه دَ اللّٰه تعالیٰ دَ کلمه توحید بیان کوؤنکے به وی یا مراد دَ دے نه عیسیٰ(علیه السلام) دے چه دَ هغه تصدیق به کوی ﴿سَيِّدًا﴾ هغه چاته وائی چه ښه اخلاق پکښ جمع شوی وی۔ ﴿حَصُوْرًا﴾ دَګناه نه بچ کیدونکے او یا دا مراد دے چه نکاح به نه کوی او دا دَ هغه دَ دین خصوصیت دے او ځمونږ دَ نبی(صلی الله علیه وسلم) سنت نکاح کول دی۔ دَ انجیل په عبارت کښ هغه ته یوحناوائی دَعیسیٰ(علیه السلام) دَخاله ځوئے دے اوشپږمیاشتے دَ هغه نه مشردے۔

[٤٠] مراد دَ دے نه تپوس دَ طریقے دَ پیدائش دے چه ایا مونږبه بیاځوانان کیږو اوکه بل واده به کوُوم اوکه پدے حال کښ به اولادکیږی؟ نو جواب اوشو چه په داسے حالت دَبوډاوالی کښ به ولد پیداکیږی۔ مراد دَ دے نه انکار کول نه دی ځکه چه دا دَ شان دَ نبی نه لرے خبره ده۔

[٤١] نښه دَدے دپاره غواړی چه شکر ډیراوکړی۔ نښه داوه چه اللّٰه تعالیٰ دهٔ لره درے ورځے دَدُنیوی خبرو کولونه منع کړو اودا په هغه دین کښ روژه وه یائے ژبه ورله بند کړله۔ ډیرذکرهغه دے چه په عقیده دَ توحید وی او دَ سنت مطابق وی او مراد دا دے چه دَاللّٰه تعالیٰ توحید ته دعوت جاری ساته ﴿عَشِيٍّ وَّالْاِبْكَارِ﴾ نه مراد ټول وختونه دی۔هرکله چه نښه دهٔ پخپله طلب کړے وه دَ دے وجے داوئیل جائزنه دی چه دا اللّٰه تعالیٰ دهٔ لره سزاورکړه لکه چه انجیل کښ لیکلی دی هغه تحریف دے۔

[٤٢] اول غوره والے په(اصطفا)پنځه صفاتوسره دے کوم چه په(۳۷)کښ ذکرشول اودویم غوره والے دا دے چه اللّٰه تعالیٰ هغے له بغیر دَ نارینه نه اولاد ورکړو دا صفت دَ دنیا په زنانوکښ نیشته ﴿الْمَلٰٓئِكَةُ﴾ جمع په معنیٰ دَ مفرد ده یعنی جبرئیل(علیه السلام) ورسره خبرے اوکړے او دا کرامت دَ مریم علیها السلام دے۔

وَ اسْجُدِیْ وَارْكَعِیْ مَعَ الرّٰكِعِیْنَ ﴿۴۳﴾ ذٰلِكَ مِنْ اَنْۢبَآءِ الْغَیْبِ نُوْحِیْهِ اِلَیْكَ ؕ وَمَا كُنْتَ لَدَیْهِمْ
اِذْ یُلْقُوْنَ اَقْلَامَهُمْ اَیُّهُمْ یَكْفُلُ مَرْیَمَ ۪ وَمَا كُنْتَ لَدَیْهِمْ اِذْ یَخْتَصِمُوْنَ ﴿۴۴﴾ اِذْ قَالَتِ
الْمَلٰٓئِكَةُ یٰمَرْیَمُ اِنَّ اللّٰهَ یُبَشِّرُكِ بِكَلِمَةٍ مِّنْهُ ۖۗ اسْمُهُ الْمَسِیْحُ عِیْسَى ابْنُ مَرْیَمَ وَجِیْهًا
فِی الدُّنْیَا وَالْاٰخِرَةِ وَمِنَ الْمُقَرَّبِیْنَ ﴿۴۵﴾ وَیُكَلِّمُ النَّاسَ فِی الْمَهْدِ وَكَهْلًا وَّمِنَ الصّٰلِحِیْنَ ﴿۴۶﴾

اوسجدے کوہ او رکوع کوہ دَ رکوع کڑونکوسرہ (٤٣) دا (چہ ذکرشوی حالات) بعضے دَ خبرونودَ غیب نہ دی وحي کڑو مونږدَ دے تاتہ اونہ وے تہ دَ دوی سرہ حاضرکوم وخت چہ غورځول دوی قلمونہ خپل چہ کوم یودَ دوی بہ پالنہ کوی دَ مریم اونہ وے تہ دَ دوی سرہ حاضر کوم وخت چہ دوی بحث کولو(٤٤) کوم وخت چہ اُویل ملائکو اے مریم: یقیناً اللّٰہ تعالیٰ زیرے درکوی تاتہ پہ کلمے سرہ دَ خپل طرف نہ نوم دَ هغہ بہ مسیح عیسیٰ(علیہ السلام) ځوے دَ مریم وی مخوریز بہ وی پہ دُنیا اوآخرت کښ اودَ نزدے کړے شؤونہ بہ وی (٤٥) اوخبرے بہ کوی دَ خلقوسرہ پہ غیر دَ مورکښ اوپہ پوخ عمرکښ اودَ کاملونیکانونہ بہ وی(٤٦)

[٤٣] دَ دے مطلب دا دے چہ مریم اگرچہ پیرہ غورہ وہ لیکن هغے تہ دَ اللّٰہ تعالیٰ دَ بندګئ حکم وو۔ معلومہ شوہ چہ پہ بزرګئ سرہ عبادت نہ معاف کیږی او واو دَ وَارکعی دَپارہ دَ ترتیب نہ دے او معلومہ شوہ چہ پہ دین دَ بنی اسرائیلو کښ رکوع اوسجدہ دواړہ عبادت وؤ۔

[٤٤] پہ دے ایت کښ دلیل دَ صدق دَ رسول دے او دَ دینہ معلومہ شوہ چہ نبی(علیہ السلام) دَ پیدائش نہ مخکښ حاضروناظرنہ وؤ لکہ څنګ چہ دَپیدائش نہ روستوهم حاضروناظرنہ دے۔اوداسے دلیل پہ سورۃ یوسف(١٠٢) او سورۃ قصص (٤٤، ٤٥، ٤٦) کښ شتہ۔ حاصل دَ واقعے دا دے چہ دَمریم دَتربیت پہ بارہ کښ دَاهل علم تنازع وہ هریوغوختلہ چہ لوردَ امام زمونږ(عمران) بہ ځہ ساتم نودَ اختلاف دَ لرے کولودَپارہ طریقہ اوخودلے شوہ اوویلے شوچہ دَ تورات اودَ احکامودَ لیکلودَپارہ کوم قلمونہ چہ استعمالیږی هغہ دَنهراوبوتہ واچوئ دَچاقلم چہ دَ اوبوپہ برہ طرف روان شی نوهغہ بہ دَ تربیت دَ دے حقداروی نو قلم دَ زکریا(علیہ السلام) پہ برہ روان شواونورقلمونہ دَ اوبوپہ کوزطرف اوبهیدل۔

[٤٥] دَ دے ایت نہ دَ عیسیٰ(علیہ السلام) پہ عجز او عبدیت باندے دلیلونہ شروع شول چہ هغہ تقریباً پنځویشت دی۔ دَ ﴿بِكَلِمَةٍ﴾ نہ مراد عیسیٰ(علیہ السلام) دے ځکہ چہ پیداشو پہ کلمہ دَ کن سرہ یا دَ وحے دَپیر بیانولو دَ کلمے دَ توحید نہ نوم ورتہ کیخودلوپہ کلمے سرہ یا دا بشارت ذکروؤپہ کتابونومخکنوکښ نوهغے تہ ئے کلمہ اُویل۔پہ دے آیت کښ شپږ احوال دَ هغہ دَ عبدیت ذکرکړی دی۔ مسیح ئے لقب دے عیسیٰ(علیہ السلام) ئے علم دے ابن مریم ئے اسم کنیت دے۔

[٤٦] پہ کَهُولَت (پوخ عمر) کښ خبرے کولوکښ اشارہ دہ دیتہ چہ عیسیٰ(علیہ السلام) کلہ دَ اسمان نہ راکوزشی نو پہ پوخ عمرکښ بہ وی ځکہ چہ اسمان تہ دَ پورتہ کیدو پہ وخت کښ کهولت تہ نہ وو رسیدلے، بلہ اشارہ دا دہ چہ یهودیان دے قتلولے نہ شی بلکہ دے بہ دَ کهولت عمرتہ رسیږی، بلہ داچہ کهولت دَ عوارضونہ دے عوارض چہ پہ چا باندے راځی نو الٰہ نشی کیدے ﴿الْمَهْدِ﴾ دَ بچی دَ آرام کولو

قَالَتْ رَبِّ اَنّٰى يَكُوْنُ لِىْ وَلَدٌ وَّلَمْ يَمْسَسْنِىْ بَشَرٌ ؕ قَالَ كَذٰلِكِ اللّٰهُ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ؕ اِذَا قَضٰٓى
اَمْرًا فَاِنَّمَا يَقُوْلُ لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ ﴿٤٧﴾ وَيُعَلِّمُهُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَالتَّوْرٰىةَ وَالْاِنْجِيْلَ ﴿٤٨﴾ وَ
رَسُوْلًا اِلٰى بَنِىْٓ اِسْرَآءِيْلَ ۙ اَنِّىْ قَدْ جِئْتُكُمْ بِاٰيَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ ۙ اَنِّىْٓ اَخْلُقُ لَكُمْ مِّنَ الطِّيْنِ
كَهَيْئَةِ الطَّيْرِ فَاَنْفُخُ فِيْهِ فَيَكُوْنُ طَيْرًا بِاِذْنِ اللّٰهِ ۚ وَاُبْرِئُ الْاَكْمَهَ وَالْاَبْرَصَ وَاُحْىِ الْمَوْتٰى
بِاِذْنِ اللّٰهِ ۚ وَاُنَبِّئُكُمْ بِمَا تَاْكُلُوْنَ وَمَا تَدَّخِرُوْنَ ۙ فِىْ بُيُوْتِكُمْ ؕ اِنَّ فِىْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ
مُّؤْمِنِيْنَ ﴿٤٩﴾ وَمُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَىَّ مِنَ التَّوْرٰىةِ وَلِاُحِلَّ لَكُمْ بَعْضَ الَّذِىْ حُرِّمَ عَلَيْكُمْ

اُویل مریم: اے ربه څنګه به اوشی ځما ځوئے اونه دے رسیدلے ماته هیڅ بنده اُویل (جبریل) دغسے (به ئے ته) اللّٰه تعالیٰ پیداکوی څه چه اوغواړی کله چه اراده اوکړی دَ یو کارپس یقیناً وائی هغے ته اوشه پس هغه اوشی (٤٧) اوخودنه به ورکوی دهٔ ته دَکتاب (قرآن) اودَ پوهے خبرے (سنت دَ نبی ﷺ) اوتورات اوانجیل (٤٨) او (لیږودے) رسول بنی اسرائیلوته چه یقیناً ماراوړی دی تاسوته معجزے دَ رب ستاسو چه یقیناً جوړ ؤوم تاسولره دَ څتے نه په شان دَ شکل دَ مرغئے پس پوکے به کؤوم په هغے کښ پس شی به الوتونکے مرغئے په حکم دَ اللّٰه تعالیٰ سره اوجوړؤم زیږے دلے ږوند او برګی والا او ژوندی کوم مړی په حکم دَ اللّٰه تعالیٰ سره اوخبر درکوم تاسوته په هغه څه چه خورئے اوهغه څه چه ذخیره کوئے تاسوپه کورونو ستاسو کښ یقیناً په دے کښ دلیلونه دی (دَ توحید اورسالت) تاسولره که تاسوایمان راوړئے (٤٩) اورالیږلے شوے یم رشتنی کؤونکے دَ هغه چه ځمانه مخکښے (نازل شوے دے) چه تورات دے اوچه حلال کړم تاسولره بعض هغه څه چه حرام کړے شوی دی په تاسوباندے

ځائے که غیګ دَ موروی اوکه زانګووی لیکن دَ سورهٔ مریم نه معلومیږی چه دلته غیګ مراد ده اومهدکښ خبرے کول معجزه ده اودلیل دے دَ عبدیت دَ هغه۔

[٤٧] په دے کښ تعجب دَ مریم ذکردے په اعتبار دَ عادت سره ﴿اللّٰهُ يَخْلُقُ﴾ په واقعه دَ زکریا علیه السلام کښ یفعل ذکر وو او دلته یخلق ځکه چه هلته دَ عادت نه ډیره نا آشنا خبره نه ده صرف دَ عمر دَ زیاتوالی خبره وه اودلته خودَ عادت نه ډیرخلاف دے خاوند نیشته او ولد پیدا شویدے۔

[٤٨] داعطف دے په احوالودَعیسیٰ علیه السلام باندے په اعتباردَ امورشرعیه سره مخکے امورتکوینیه ذکر وؤځکه چه دَ تورات او انجیل ذکرئے روستو کړے دے دویم قول دا دے چه الکتاب نه مرادجنس کتب الٰهیه دی، دریم قول دا دے چه مراد دَ دے نه علم کتابت دے ﴿الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ﴾ قرآن اوسنت دَ اخری نبی به ورته خودلے کیږی روستو دَ راکوځیدلو دَ اسمان نه۔

[٤٩] ﴿رَسُوْلًا﴾ اشاره ده چه بدکارنه دے لکه چه یهودیان وائی اوالله یا ولد دَ اللّٰه تعالیٰ نه دے لکه چه نصاریٰ وائی۔ په زمانه دَعیسیٰ علیه السلام کښ دَ طب دَیونان لویه چرچه وه علاجونه به ئے کول نواللّٰه تعالیٰ دهٔ لره هغه معجزات ورکړل چه دَعلاج سره تعلق لری چه معلومه شی چه حکماء هم دَ دے نه عاجز دی۔نودَ هرنبی معجزه دَ هغه وخت سره مناسبه وی ﴿لَكُمْ﴾ دپاره دَ ایمان راوړلوستاسو۔

وَجِئْتُكُمْ بِاٰيَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ ۫ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ﴿٥٠﴾ اِنَّ اللّٰهَ رَبِّيْ وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْهُ ؕ هٰذَا
صِرَاطٌ مُّسْتَقِيْمٌ ﴿٥١﴾ فَلَمَّآ اَحَسَّ عِيْسٰى مِنْهُمُ الْكُفْرَ قَالَ مَنْ اَنْصَارِيْٓ اِلَى اللّٰهِ ؕ قَالَ الْحَوَارِيُّوْنَ
نَحْنُ اَنْصَارُ اللّٰهِ ۚ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ ۚ وَاشْهَدْ بِاَنَّا مُسْلِمُوْنَ ﴿٥٢﴾ رَبَّنَآ اٰمَنَّا بِمَآ اَنْزَلْتَ وَاتَّبَعْنَا الرَّسُوْلَ
فَاكْتُبْنَا مَعَ الشّٰهِدِيْنَ ﴿٥٣﴾ وَمَكَرُوْا وَمَكَرَ اللّٰهُ ؕ وَاللّٰهُ خَيْرُ الْمٰكِرِيْنَ ﴿٥٤﴾ ع اِذْ قَالَ اللّٰهُ يٰعِيْسٰٓى اِنِّيْ

اوراوړی دی ماتاسوته نوړے نبیے دَ طرف دَ رب ستاسونه پس اویرپرئے دَ اللّٰه تعالیٰ نه (په شرك پرے خودلو) اوتابعداری اوکړئے ځما (٥٠) یقیناً اللّٰه تعالیٰ رب ځما او رب ستاسو دے پس بندګی خاص کړے هغه لره دالارنیغه ده (٥١) پس هرکله چه معلوم کړو عیسیٰ(علیه السلام)دَ دوی نه انکار اُویل هغه، ځوك امداد کوی ماسره په لاردَ اللّٰه تعالیٰ کښ اُویل اخلاصی ملګرو: مونږ امدادیان یودَ اللّٰه تعالیٰ دپاره ایمان راوړے دے مونږپه اللّٰه تعالیٰ اوګواه شه ته چه یقیناً مونږ غاړه کیخودونکی یو (عمل ته)(٥٢) اے ربه ځمونږایمان راوړے دے مونږپه هغه څه چه تا نازل کړی دی اوتابعداری کړے ده مونږدَ دے رسول پس اولیکه مونږسره دَ منونکو دَ توحید نه (٥٣) اوچلونه جوړکړه دوی (دَ قتل دَ عیسیٰ(علیه السلام)) اوپټ تدبیر اوکړواللّٰه تعالیٰ (دَ هغه دَ بچ کولو) اواللّٰه تعالیٰ غوره دَ تدبیرکوونکودے (٥٤) کوم وخت چه اُویل اللّٰه تعالیٰ اے عیسیٰ یقیناً ځه

[٥٠] بعضے حرام شوی ځیزونه په یهودیانو، سورة انعام (١٤٦) کښ ذکردی هغه ئے دوی لره حلال کړل په طریقه دَ نسخ سره اویامراد دے نه هغه ځیزونه دی چه باطل پرست ملایانو په دوی باندے بے دلیله حرام کړی وؤ هغه ورته عیسیٰ(علیه السلام) حلال کړل اوپه دے معنیٰ سره بعض نه مرادکل دے لیکن هرکله چه دوی کوم حرام ګنړل دا دَ هغے نه بعضے وؤ ځکه ورته بعض اوفرمائیل ﴿فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ﴾ په دے کښ مسئله دَ سنت ذکرده اودا دعوت دَ ټولوانبیاؤعلیهم السلام دے لکه چه په سورة شعراء کښ ذکردی۔

[٥١] دا مسئله دَ توحید دَ ربوبیة او الوهیت عیسیٰ(علیه السلام) بیان کړے ده ښکاره دلیل دے چه عیسیٰ(علیه السلام) معبود نه دے او اشاره ده چه توحید صراط مستقیم دے۔

[٥٢] حواری هغه دوست ته وئیلے کیږی چه مخلص وی زړه ئے سپین وی او راز دار وی په حدیث کښ دَ هغے معنیٰ ذکرکړے ده چه وَاَصْحَابٌ يَاْخُذُوْنَ بِسُنَّتِهٖ وَيَقْتَدُوْنَ بِاَمْرِهٖ۔ داسے ملګری چه عمل کوی په طریقه دَ نبی او اقتداء کوی دَ حکم دَهغه۔دَ دین الٰهی په امدادسره انسان اللّٰه تعالیٰ ته نیزدے کیږی ځکه ئے اِلَى اللّٰهِ اوفرمائیل ﴿قَالَ مَنْ اَنْصَارِيْٓ اِلَى اللّٰهِ﴾ اشاره ده چه دَ انکارنه روستو مخالفینو دَ عیسیٰ(علیه السلام) دَ قتل ارادے اوکړلے نوپه داسے وخت (ماتحت الاسباب) انسان مخلص ملګروته محتاج وی هغه دَ دے وجے نه داسے اُویل ﴿مُسْلِمُوْنَ﴾ اسلام روستودَایمان نه دلالت کوی دَ ایمان په ښکاره کولو باندے په عمل کولوسره۔

[٥٣] دا دُعا دَ حوارینوده اوپه دے کښ ایمان اوتابعداری دَ رسول وسیله ګرځولے ده ﴿الشّٰهِدِيْنَ﴾ داسے په سورة مائده (٨٣) کښ ذکردی مراد دَ شاهدین نه شهادت کوؤنکی دَ توحید اودَ رسالت دی په هره زمانه کښ۔ یا مراد دَ دے آخری اُمت دے په دلیل دَ سورة بقره (١٤٣) سره۔

مُتَوَفِّيْكَ وَرَافِعُكَ اِلَيَّ وَمُطَهِّرُكَ مِنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَجَاعِلُ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْكَ فَوْقَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا
اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ ۚ ثُمَّ اِلَيَّ مَرْجِعُكُمْ فَاَحْكُمُ بَيْنَكُمْ فِيْمَا كُنْتُمْ فِيْهِ تَخْتَلِفُوْنَ ﴿٥٥﴾ فَاَمَّا الَّذِيْنَ
كَفَرُوْا فَاُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا شَدِيْدًا فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ۫ وَمَا لَهُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ﴿٥٦﴾ وَاَمَّا الَّذِيْنَ
اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فَيُوَفِّيْهِمْ اُجُوْرَهُمْ ۭ وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٥٧﴾ ذٰلِكَ نَتْلُوْهُ عَلَيْكَ

پوره اخلم تالره اوپورته کؤم تا ځان ته اوبج کؤوم تالره دَکافرانونه اوګرځؤوم به هغه کسان چه ستا تابعدار دی غالب په کافرانو باندے تروړځ دَ قیامت پورے بیاماته واپسی ستاسوده پس فیصله به اوکړم په مینځ ستاسو کښ په هغه څه کښ چه تاسوپه هغے کښ اختلاف کوئے (٥٥) پس هغه کسان چه کفرئے کړے دے پس عذاب به ورکړم دوی له عذاب سخت په دُنیا اواخرت کښ اونیشته دوی لره هیڅوك مددګاران (٥٦) اوهغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے اوعمل ئے کړے دے په طریقه دَ پیغمبر(ﷺ) سره پس پوره به ورکوی دویته ثوابونه دَ دوی اواللّٰه تعالیٰ مینه نکوی ظالمانوسره (٥٧) دا لولو مونږ په تاباندے

[٥٤] مکر نه مراد دی ګمراهئی ته دعوت ورکول او پټے جرګے کول اوتدبیرونه جوړول دپاره دَ قتل دَ عیسیٰ(ﷺ) اومکر دَ اللّٰه تعالیٰ نه مراد پټ تدبیرکول دپاره دَبج کولودَعیسیٰ(ﷺ) ﴿مَكَرُوْا﴾ ضمیراهل کفرته راجع دے، مکردَ دوی دا وؤچه اول ئے په عیسیٰ(ﷺ) په خپل مذهبی عدالت کښ حکم دَ الحاد اودَ قتل اوکړوبیا ئے دَ شاه روم په عدالت کښ په هغه باندے دَبغاوت اودَ پانسئے حکم اوکړونوجیل ته ئے واچوؤ۔

[٥٥] دا تدبیردَاللّٰه تعالیٰ دے دپاره دَبج کولودَعیسیٰ(ﷺ) ﴿مُتَوَفِّيْكَ﴾ توفی دَعربئے په لغت کښ پوره اخستل دَځیزته وئیلے شی، اودّ مرګ په معنیٰ مجازاً راځی نودلته حقیقی معنیٰ مراد ده ځکه چه دَ عیسیٰ(ﷺ) دوباره راکوځیدلوکښ احادیث په تواترسره راغلی دی اودا دَمسلمانانوعقیده ده اوتوفی په معنیٰ دَ اوده کولوسره هم راځی لکه په سورة انعام(٦٠)کښ دی لیکن هغه معنیٰ دلته غوره نه ده ﴿وَرَافِعُكَ﴾ مراد دَ دے نه رفع حقیقی ده قرآن کریم کښ رفع (٢٩) کرته ذکرده دَ هغے نه (١٧) کرته په معنیٰ حقیقی او(١٢)کرته په معنیٰ مجازی سره ده اودلته هم معنیٰ حقیقی مراد ده مجاز اخستلوته هیڅ ضرورت نیشته۔ ﴿وَمُطَهِّرُكَ﴾ پاك ساتلونه مراد لرے ساتل دَهغوی دَپلیتوکارونواو ارادونه ﴿فَوْقَ﴾ اوچت والے په مرتبه کښ اوپه حجت کښ مقصد دے حکومت ورکول مقصد نه دے ﴿اِلَيَّ﴾ دَ متشابهاتونه دے اومراد ترینه هغه ځائے دے چه دَبل چا اختیارپکښ نه چلیږی اوهغه اسمان دے، اِلَيَّ په صفت دَ اللّٰه تعالیٰ کښ ډیرکرته راغلے دے لکه الیه یصعد الکلم الطیب اوالیه ترجعون، دَ عیسیٰ(ﷺ) تابعدارهغه خلق دی چه عقیده دَ توحید لری اوعیسیٰ(ﷺ) دَ اللّٰه تعالیٰ رسول ګڼری اودا دَ دے اُمت مؤمنان دی۔

[٥٦] دا تخویف دنیوی او اُخروی دواړه دی دَپاره دَ مخالفینودَ دین دَ عیسیٰ(ﷺ) نه۔

[٥٧] دا بشارت دے مؤمنانوته که دَ عیسیٰ(ﷺ) په ملت کښ دی اوکه په آخری ملت کښ دی ﴿وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ﴾ په دے کښ اشاره ده چه ظالمانوله چه په دُنیا کښ مزے او ترقی ورکوی نو دلیل دا محبت دَ اللّٰه تعالیٰ نه دے۔

مِنَ الْاٰيٰتِ وَ الذِّكْرِ الْحَكِيْمِ ﴿٥٨﴾ اِنَّ مَثَلَ عِيْسٰى عِنْدَ اللّٰهِ كَمَثَلِ اٰدَمَ ؕ خَلَقَهٗ مِنْ تُرَابٍ ثُمَّ قَالَ
لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ ﴿٥٩﴾ اَلْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ فَلَا تَكُنْ مِّنَ الْمُمْتَرِيْنَ ﴿٦٠﴾ فَمَنْ حَآجَّكَ فِيْهِ مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَكَ
مِنَ الْعِلْمِ فَقُلْ تَعَالَوْا نَدْعُ اَبْنَآءَنَا وَ اَبْنَآءَكُمْ وَ نِسَآءَنَا وَ نِسَآءَكُمْ وَ اَنْفُسَنَا وَ اَنْفُسَكُمْ ۟ ثُمَّ
نَبْتَهِلْ فَنَجْعَلْ لَّعْنَتَ اللّٰهِ عَلَى الْكٰذِبِيْنَ ﴿٦١﴾ اِنَّ هٰذَا لَهُوَ الْقَصَصُ الْحَقُّ ۚ وَمَا مِنْ اِلٰهٍ

چه ایاتونه دی (دلیلونه) اونصیحت دَ حکمتونونه ډك (٥٨) یقیناً حال دَ عیسی(علیه السلام) په نیز دَ الله تعالی پشان دَ حال دَ آدم(علیه السلام) دے جوړ کړے ئے ؤودے دَ خاورونه، بیا اُویل الله تعالی دهٔ ته شه پس اوشوهغه (٥٩) داحق دے ستا دَ رب دَ طرف نه پس مه کیږه دَ شك کؤونکونه (٦٠) پس څوك چه جګړه کوی تاسره په باره دَ عیسیٰ(علیه السلام) کښ روسته دَ هغے نه چه راغلے ده تاته پوهه (په وحی سره) پس اُوایه راشئے چه را اوبلوځامن خپل اوځامن ستاسو اوزنانه خپلے اوزنانه ستاسواوځانونه زمونږاوځانونه ستاسوبیا عاجزی اوکړو پس اوبه غواړو لعنت دَ الله تعالی په دروغژنوخلقوباندے (٦١) یقیناً دا خامخا هغه بیان حق دے اونیشته څوك حق دارد بند گئے

[٥٨] دے ایت کښ اثبات دَصدق دَ رسول دے ﴿الْاٰيٰتِ﴾ دلیلونه دَعبدیت دَعیسیٰ(علیه السلام) ﴿وَالذِّكْرِ الْحَكِيْمِ﴾ دَ وعظ اوتخویف وبشارت خبرے۔

[٥٩] دا جواب دَ هغه سوال دے چه دَعیسیٰ(علیه السلام)ے پلاره پیداکیدل دلیل دے په دے چه دے الٰه دے حاجت روا دے؟ نوجواب دا دے چه دَ آدم(علیه السلام) پلار اومور دواړه نه وؤ نوپکار دی چه هغه دِلوی الٰه وی اوحال داچه هغه الٰه نه دے۔ اوپه دیکښ تشبیه دَ غریب ده (لګ نا آشنا) دَ اغرب (ډیرناآشنا) سره۔

[٦٠] دا تاکید دَتیرشوی مضمون دے اوخطاب نبی(صلی الله علیه وسلم) ته دے اومراد ترینه امتیان دی ﴿فَلَا تَكُنْ مِّنَ الْمُمْتَرِيْنَ﴾ منع کول دَ شك نه مستلزم نه ده وقوع دَ هغے لره یعنی نبی ﷺ هیڅ شك په دے کښ نه دے کړے۔ او هرکله چه مسئله دَ قبلے دَ دے امت دَپاره ډیراهمه وه دَ دے وجے نه په سورة بقره (١٤٧) کښ فلاتکونن په تاکید سره وئیلے دے۔

[٦١] دے ایت کښ دعوت دَ مباهلے دے دَ نصاریٰ سره لیکن هغوی دَ مباهلے نه انکار اوکړو۔ مباهله اوس هم جائز ده په دے شرط چه په یقینی مسئله کښ وی اومخکښ په دلیلونو سره پوهه کړے شی او دَ هغوی دَ شبهاتو جوابونه اوکړے شی او بیاهم نه منی نو مباهله پکار ده۔ مباهله خیرے کول اودُعا دَ لعنت ته وئیلے شی اوجمع کول دَ اهل وعیال اوملګرو صرف په دے مباهله کښ شرط کړے شوی وؤپه هره مباهله کښ دا شرط نه دے لکه چه سورة بقره اوسورة جمعه کښ مباهله دَ یهودیانو ذکرشویده ﴿اَنْفُسَنَا﴾ مراد دے نه رونړه او نورملګری دی۔

اِلَّا اللّٰهُ ؕ وَاِنَّ اللّٰهَ لَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿٦٢﴾ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌۢ بِالْمُفْسِدِيْنَ ﴿٦٣﴾ قُلْ يٰۤاَهْلَ
الْكِتٰبِ تَعَالَوْا اِلٰى كَلِمَةٍ سَوَآءٍۢ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ اَلَّا نَعْبُدَ اِلَّا اللّٰهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهٖ شَيْـًٔا وَّلَا يَتَّخِذَ
بَعْضُنَا بَعْضًا اَرْبَابًا مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَقُوْلُوا اشْهَدُوْا بِاَنَّا مُسْلِمُوْنَ ﴿٦٤﴾ يٰۤاَهْلَ الْكِتٰبِ
لِمَ تُحَآجُّوْنَ فِىْۤ اِبْرٰهِيْمَ وَمَاۤ اُنْزِلَتِ التَّوْرٰىةُ وَالْاِنْجِيْلُ اِلَّا مِنْۢ بَعْدِهٖ ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿٦٥﴾

سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه اویقیناً اللّٰه تعالیٰ خامخا زور اوردے حکمتونو والا دے (٦٢) پس که دوی مخ واړوو پس یقیناً اللّٰه تعالیٰ عالم دے په فسادکوونکو (٦٣) اُوایه اے کتاب والو: راشئے هغه کلمے ته چه برابره ده په مینځ ځمونږ اوستاسو کښ چه بندګی نه کوو مګرد یواللّٰه تعالیٰ اونه به شریکوو دَ هغه سره هیڅ شے اونه به نیسی بعضے ځمونږ بعضو لره اختیارمند دَ حکم سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه پس که دوی مخ واړوو پس اووائے خبرشئے چه یقیناً مونږ توحید منونکی یو (٦٤) اے کتاب والو: ولے جګړه کوئے په باره دَ ابراهیم(علیه السلام) کښ اونه دے نازل کړے شوے تورات اوانجیل مګر روستودَ هغه نه ایا پس دَ عقل نه کار نه اخلئے (٦٥)

[٦٢] دے ایت کښ نتیجه دَ تیرشوی بیان ده په ذکردَ توحید سره یعنی حاصل دَ اثبات دَ عجز دَ عیسیٰ(علیه السلام) اثبات دَتوحید دَ الوهیت دے ﴿الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ﴾ ټول صفتونه دَ قدرت (تصرف) او دَ علم راجع دی دے دوه صفتونوته۔

[٦٣] اشاره ده چه مفسد هغه ځوك دے چه دَ توحید نه اعراض کوی اوشبهات دَ خلقو په زړونو کښ غورځوی۔

[٦٤] دَ دے ایت نه تر(١٠١) پورے دویمه حصه دَ سورة ده۔ په دے کښ بیان دَ صدق دَ رسول دے په ذکر دَ ځوارلس قبائحودَ منکرینوکتابیانواوپه دے کښ دَ درے سوالونوجوابونه دی په (٧٩،٩٣، ٩٦) کښ۔ دَ دے ایت مطلب دا دے چه کلمه دَ توحید ظاهری طورباندے تاسوهم منئے اومونږهم منو، نورائځئے دَ دے تشریح واورئے اوپه هغے باندے خپله عقیده صحیح کړئے، په اوله جمله کښ بیان دَ حق دَ اللّٰه تعالیٰ دے، په دویمه جمله کښ رد دے په شرك فی الالوهیت او په دریمه جمله کښ رد دے په شرك فی الربوبیت باندے ﴿اَرْبَاباً﴾ مراد دَ دے نه هغه ځوك دی چه هغه سره اختیاروی دَ حلالولو اوحرام کولو او دا اللّٰه تعالیٰ پورے خاص دے، پیغمبر(علیه السلام) له هم دا اختیار نیشته، دَ حل اوحرمت نسبت پیغمبرته مجازی دے په اعتبار دَ بیان اودَ تشریح کولودے۔ دلته دَ ربوبیت نه قدرت اوخلق اوتصرف مرادنه دے ځکه په هغے کښ دوی شرك نه وؤکړے۔ په دے ایت کښ دَ منکرینواول قباحت ذکرشو، شرك کول۔

[٦٥] په دے ایت کښ دویم قباحت ذکرشو، نسبت دَ دین باطل ابراهیم(علیه السلام) ته یعنی دوی وئیل چه یهودیت نصرانیت دین دَ ابراهیم(علیه السلام) دے نودَ دے ردکوی په څلورو آیاتونو کښ۔ اول په دے ایت کښ دے اوحاصل دَ رد دا دے چه یهودیت اونصرانیت دینونه خودَ نزول دَتورات اوانجیل نه روستو جوړشویدی اوابراهیم(علیه السلام) خودَ تورات اوانجیل دَنزول نه ډیرمخکے پیداشویدے نو هغه څرنګ یهودی یا نصرانی شو۔

هٰٓاَنْتُمْ هٰٓؤُلَآءِ حَاجَجْتُمْ فِيْمَا لَكُمْ بِهٖ عِلْمٌ فَلِمَ تُحَآجُّوْنَ فِيْمَا لَيْسَ لَكُمْ بِهٖ عِلْمٌ ؕ وَاللّٰهُ
يَعْلَمُ وَاَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿٦٦﴾ مَا كَانَ اِبْرٰهِيْمُ يَهُوْدِيًّا وَّلَا نَصْرَانِيًّا وَّلٰكِنْ كَانَ حَنِيْفًا مُّسْلِمًا ؕ
وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿٦٧﴾ اِنَّ اَوْلَى النَّاسِ بِاِبْرٰهِيْمَ لَلَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُ وَهٰذَا النَّبِيُّ وَالَّذِيْنَ
اٰمَنُوْا ؕ وَاللّٰهُ وَلِيُّ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٦٨﴾ وَدَّتْ طَّآئِفَةٌ مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ لَوْ يُضِلُّوْنَكُمْ ؕ وَمَا يُضِلُّوْنَ
اِلَّآ اَنْفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُوْنَ ﴿٦٩﴾ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ لِمَ تَكْفُرُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَاَنْتُمْ تَشْهَدُوْنَ ﴿٧٠﴾ يٰٓاَهْلَ
الْكِتٰبِ لِمَ تَلْبِسُوْنَ الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ وَتَكْتُمُوْنَ الْحَقَّ وَاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿٧١﴾ وَقَالَتْ طَّآئِفَةٌ مِّنْ ع ١٥

خبردار تاسو اے خلقوحکړه کوئے په هغه څه کښ چه تاسوله په هغے باندے پوهه ده پس ولے جګړه کوئے په هغه څه کښ چه نیشته تاسولره په هغے باندے پوهه او اللّٰه تعالیٰ پوهیږی او تاسو نه پوهیږئے (٦٦) نه ؤو ابراهیم(علیه السلام) یهودی اونه نصرانی او لیکن ؤو هغه کلك مؤحد اونه ؤو دَ مشرکانوڈ ډلے نه (٦٧) یقیناً زیات حق دار دَ خلقونه په نسبت کولوابراهیم(علیه السلام) ته خامخا هغه خلق دی چه تابعداری کړے دهٗ دَ هغه او داپیغمبر اومؤمنان اواللّٰه تعالیٰ دوست دے دَ مؤمنانو (٦٨) غواړی یوه ډله دَ اهل کتابونه چه ګمراه کړی تاسواونه ګمراه کوی دوی مګر ځانونه خپل اودوی نه پوهیږی(٦٩) اے کتاب والو: ولے کفر کوئے تاسو په آیاتونوڈ اللّٰه تعالیٰ اوتاسوخبر ئے (٧٠)اے کتاب والو: ولے ګډوډ کوئے په خلقو باندے حق اوباطل او(ولے) پټوئے تاسو حق اوتاسو پوهیږئے (٧١) او اُویل یوډلے دَ

[٦٦] په دے کښ زورنه ده ۔ او دویم رد دے چه په باره دَ ابراهیم علیه السلام کښ خوستاسوخبره بالکل بے دلیله ده ﴿عِلْمٌ﴾ نکره په اثبات کښ ده یعنی بعضے علم اوپه نفی کښ خو عموم غواړی۔

[٦٧] په دے کښ دریم رد دے صریح په هغوی باندے اودَ اشارے نه معلومه شوه چه یهودیان اوعیسایان مشرکان وؤ ځکه چه په هغے دواړه ډلوکښ شرك موجود وؤ۔

[٦٨] په دے کښ څلورم رد دے په هغوی باندے اشاره ده چه نبی ﷺ ته نسبت کول دَ تابعداریٔ په وجه دے نه دَ نسب په وجه باندے ﴿اَوْلٰى﴾ دَ دے معنیٰ حق دا ردَ نسبت کولو۔

[٦٩] په دے کښ دریم قباحت دَ هغوی ذکر دے، امیانوته دَ شرك اوکفر اوګناه خبرے خودل چه دا دین دے، اوپه دے باندے زورنه ورکوی۔ او داسے په سورة بقره (١٠٩) کښ تیرشویدی﴿وَمَا يُضِلُّوْنَ اِلَّآ اَنْفُسَهُمْ﴾ دا دلیل دے چه څوك بل چاته کلمه او عقیده دَکفر اوشرك ښائی نو هغه په خپله کافر اومشرك شو۔

[٧٠] په دے ایت کښ څلورم قباحت دَ هغوی ذکردے او په هغے باندے زورنه ۔ دلته کفرپه تورات باندے داوؤ چه په هغے کښ دَ توحید او دَ اخری رسول په باره کښ ایاتونه دی په هغے کښ دوی تحریف کوؤ لفظی اومعنوی۔

[٧١] په دے کښ بیان دَ پنځم قباحت دے سرهٗ دَ زورنے ورکولونه کله چه دوی خبرے کولے دَ نیمګړو ملایانو اولږپوهه لرونکو سره نو تلبیس به ئے کوؤ اوهغه له به ئے په زړه کښ شکونه اچول اوکله چه دَ امیانو سره خبرے وے نو حق به ئے ترینه پټوو۔ او دا دَګمراه کولو دَ خلقو دوه طریقے دی۔

اَهْلَ الْكِتٰبِ اٰمِنُوْا بِالَّذِيْٓ اُنْزِلَ عَلَى الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَجْهَ النَّهَارِ وَاكْفُرُوْٓا اٰخِرَهٗ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿۷۲﴾ وَلَا
تُؤْمِنُوْٓا اِلَّا لِمَنْ تَبِعَ دِيْنَكُمْ ؕ قُلْ اِنَّ الْهُدٰى هُدَى اللّٰهِ ۙ اَنْ يُّؤْتٰٓى اَحَدٌ مِّثْلَ مَآ اُوْتِيْتُمْ اَوْ يُحَآجُّوْكُمْ
عِنْدَ رَبِّكُمْ ؕ قُلْ اِنَّ الْفَضْلَ بِيَدِ اللّٰهِ ۚ يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ﴿۷۳﴾ يَّخْتَصُّ بِرَحْمَتِهٖ مَنْ
يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ﴿۷۴﴾ وَمِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ مَنْ اِنْ تَاْمَنْهُ بِقِنْطَارٍ يُّؤَدِّهٖٓ اِلَيْكَ ۚ وَمِنْهُمْ مَّنْ

کتاب والونه ایمان بنکاره کړئ په هغه څه چه نازل کړے شوے دے په ایمان والوباندے په اول د ورځ کښ او انکارئ اوکړئ په روستو وخت کښ امید دے چه دوی به واپس شی (۷۲) اومه منئ د هیڅا خبره مګرد هغه چاچه روان وی ستاسو دین پسے اُوایه یقیناً حق دین (صرف) د اللّٰه تعالیٰ دین دے (آیا) ورکیدلے شی بل چاته پشان د هغے چه درکړے شوے دے تاسوته اویابه دوی غالب شی په تاسو په نیزد رب ستاسو اُوایه یقیناً فضل (هدایت) د اللّٰه تعالیٰ په لاس کښ دے ورکوی چه چاته اوغواړی او اللّٰه تعالیٰ فراخ فضل والا دے پوهه دے په هرڅه (۷۳) خاص کوی اللّٰه تعالیٰ رحمت خپل (وحی او پیغمبری) په هغه چا پورے چه اوغواړی اواللّٰه تعالیٰ لوئے فضل والا دے (۷٤) اوبعضے د کتاب والونه هغه دی که امانت ورکړے لویه خزانه نودرکوی به تاته اوبعضے د دوینه هغه څوک دی

[۷۲] په دے کښ بیان د شپږم قباحت دے او زورنه ده، دوی مکرکوؤ د هغه مؤمنانود ګمراه کولودپاره کوم چه اول د دوی سره په دین کښ شریك وؤلیکن د هغے مکر په دغه صحابو باندے هیڅ اثرنه وؤ د هغوی ایمان پوخ وؤ۔ اوحاصل د دے داسے وؤچه د ورځے په اول وخت کښ د ایمان اظهار اوکړئ اوپه اخرد ورځ کښ د کفراعلان اوکړئ نودا خلق(صحابه) به هم ستاسوپه تقلیدکښ مرتد شی۔ لیکن ایمان د صحابه کرامو په تقلید باندے بنا نه وؤ۔

[۷۳] په دے کښ بیان د اووم قباحت دے سرهٔ د زجرنه۔ هغه دا دے دوی وئیل خپلو کشرانوته چه څوك ستاسو د طریقے نه خلاف وی (نوے خبرے کوی) نودهغه خبرے مه منئے۔ صرف د خپلو(زړو) ملایانومنئے۔ بله خبره ئے داکوله چه مشری او پیغمبری زمونږحق دے بل چاته دانشی ورکیدے علم زمونږ زیات دے بل څوك په مونږنشی غالب کیدے۔ د اولے خبرے جواب دا دے۔ قُلْ اِنَّ الْهُدٰى هُدَى اللّٰهِ۔ او دَدویمے خبرے جواب دا دے۔ قُلْ اِنَّ الْفَضْلَ بِيَدِ اللّٰهِ آه ﴿وَلَا تُؤْمِنُوْٓا﴾ دا د دوی عام خطاب وؤ خپل کشرانوته اوقالوا د دے نه مخکښ پټ دے۔ دویم قول دا دے چه دا خاص دے صرف هغه کسانوته چه مخکے آیت کښ هغوی ته ئے وئیلی وؤچه آمنوا بالذی انزل علی الذین آمنوا۔ په اوله توجیه باندے الالمن تبع دینکم، دَیهودیانو زاړه ملایان مراد دی اوپه دویمه توجیه باندے هغه کسان مراد دی چه هغوی ایمان راوړے دے په آخری نبی باندے ﴿اَنْ يُّؤْتٰٓى اَحَدٌ﴾ په مخکے قول باندے دلته همزه د استفهام انکاری دے﴿مِثْلَ مَآ اُوْتِيْتُمْ﴾ نه مراد نبوت اوعلم اوفضیلت دے اوبل قول دا دے چه دامفعول دے د لاتؤمنوا دپاره اوالّا لمن تبع استثناء مقدم ده د احدٌ نه دریم قول دا دے چه هدی اللّٰه بدل دے د الهدیٰ نه اوان یؤتیٰ خبردے د انّ دپاره۔

[۷٤] د فضل نه مراد ایمان اوهدایت دے او د رحمت نه مراد وحی او نبوت ورکول دی۔

اِنْ تَاْمَنْهُ بِدِيْنَارٍ لَّا يُؤَدِّهٖٓ اِلَيْكَ اِلَّا مَا دُمْتَ عَلَيْهِ قَآئِمًا ؕ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَالُوْا لَيْسَ عَلَيْنَا فِي
الْاُمِّيّٖنَ سَبِيْلٌ ۚ وَيَقُوْلُوْنَ عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿٧٥﴾ بَلٰى مَنْ اَوْفٰى بِعَهْدِهٖ وَاتَّقٰى فَاِنَّ اللّٰهَ
يُحِبُّ الْمُتَّقِيْنَ ﴿٧٦﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ يَشْتَرُوْنَ بِعَهْدِ اللّٰهِ وَاَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيْلًا اُولٰٓئِكَ لَا خَلَاقَ لَهُمْ فِي
الْاٰخِرَةِ وَلَا يُكَلِّمُهُمُ اللّٰهُ وَلَا يَنْظُرُ اِلَيْهِمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَلَا يُزَكِّيْهِمْ ۪ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٧٧﴾ وَاِنَّ
مِنْهُمْ لَفَرِيْقًا يَّلْوٗنَ اَلْسِنَتَهُمْ بِالْكِتٰبِ لِتَحْسَبُوْهُ مِنَ الْكِتٰبِ وَمَا هُوَ مِنَ الْكِتٰبِ ۚ وَيَقُوْلُوْنَ هُوَ مِنْ
عِنْدِ اللّٰهِ وَمَا هُوَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ۚ وَيَقُوْلُوْنَ عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿٧٨﴾ مَا كَانَ لِبَشَرٍ اَنْ يُّؤْتِيَهُ

چه امانت ورکړے یوه اشرفئ، نه اداکوی هغه تاته مګر ترڅوچه ته ئے دَ هغه (په خواکښ) ولاړ دایه دے سبب چه دوی وائی نیشته په مونږ باندے په باره دَ مال دَ امیانوکښ هیڅ ګناه اوجوړوی دوی په اللّٰه تعالیٰ باندے دروغ اودوی پوهیږی (۷۵) (داسے نه ده) بلکه چاچه پوره کړو لوظ خپل او ویریدودَ اللّٰه تعالیٰ نه پس یقیناً اللّٰه تعالیٰ مینه کوی دَ متقیانو سره (۷۶) یقیناً هغه کسان چه اخلی په لوظ دَ اللّٰه تعالیٰ او په قسمونوخپلو بدله لږه (چه دُنیا ده) دغه کسان نیشته هیڅ حصه دَ دوی (دَ ثواب) په اٰخرت کښ اوخبرے به نه کوی دَ دوی سره اللّٰه تعالیٰ اونه به نظرکوی دوی ته په ورځ دَ قیامت اونه به پاک کړی دوی اودوی لره عذاب دے درد ناک (۷۷) اویقیناً دَ دوی نه خامخا یوه ډله ده تاوَوی ژبے خپلے په کتاب سره دَ دے دپاره چه تاسو پرے ګمان اوکړئے دَکتاب دَ اللّٰه تعالیٰ اوهغه نه وی دَکتاب دَ اللّٰه تعالیٰ نه اووائی دوی دا دَ طرف دَ اللّٰه تعالیٰ نه دے، اونه وی هغه دَ طرف دَ اللّٰه تعالیٰ نه اوجوړوی دوی په اللّٰه تعالیٰ باندے دروغ او دوی پوهیږی (۷۸) نه دی مناسب یوبنده لره چه ورکړے وی هغه ته

[۷۵] په دے کښ بیان دَاتم قباحت دے او زورنه ده چه دوی دَ امیانومال ځان له حلال ګڼړی که په هره طریقے سره حاصل کړی اودَحلال والی نسبت اللّٰه تعالیٰ ته کوی۔ اوپه دے ایت کښ دَکتاب والودوه قسمه ذکردی(۱) حق پرست او(۲) باطل پرست۔ ﴿بِقِنْطَارٍ﴾ لوئے خزانے ته وئیلے شی تقدیرمعین ئے ثابت نه دے ﴿اِلَّا مَادُمْتَ عَلَيْهِ قَآئِماً﴾ مراد دَ دے نه دا چه هروخت دَ هغه نه مطالبه کوی او ورپسے ګرځی ﴿لَيْسَ عَلَيْنَا فِي الْاُمِّيّٖنَ﴾ مراد دا دے چه دغه مال خورل دَ هغوی حلال ګڼړی۔

[۷۶] په دے کښ دَحق پرستوذکردے اودَ هغوی دوه صفتونه ئے ذکرکړی دی ﴿بِعَهْدِهٖ﴾ هغه عهدونه چه په تورات کښ دی یا عام عهود دَ اللّٰه تعالیٰ مراد دی۔

[۷۷] په دے آیت کښ دَ اٰخرت ویره ده هغه چاڅه چه دَ اللّٰه تعالیٰ دَ کتاب مقابله کښ دُنیا خوښوی او په دروغو قسمونوسره دُنیا کټی ﴿بِعَهْدِ اللّٰهِ﴾ حکمونه دَاللّٰه تعالیٰ او کتاب دَ اللّٰه تعالیٰ ﴿ثَمَناً قَلِيْلاً﴾ مراد دَ دے نه ټوله دُنیا ومافیها ده ځکه هغه په مقابله دَ دین دَ اللّٰه تعالیٰ کښ لږه ده ﴿خَلَاقَ﴾ مراد دَ دے حصه دَخیرده ﴿لَايُكَلِّمُهُمُ اللّٰهُ وَلَايَنْظُرُ﴾ مراد دَ دے نه خبرے اونظرکول دَ رحم اودَ لطف دی۔ ﴿لَايُزَكِّيْهِمْ﴾ مراد دَ دے نه دَ ګناهونو نه پاکول او دَ عذاب نه بچ ساتل دی۔

[۷۸] په دے کښ بیان دَنهم قباحت دَهغوی دے سرهٔ دَ زورنے نه چه دوی تحریف کوی په طریقه دَ لیّ

اللّٰهُ الْكِتٰبَ وَالْحُكْمَ وَالنُّبُوَّةَ ثُمَّ يَقُوْلَ لِلنَّاسِ كُوْنُوْا عِبَادًا لِّيْ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلٰكِنْ كُوْنُوْا رَبّٰنِيّٖنَ
بِمَا كُنْتُمْ تُعَلِّمُوْنَ الْكِتٰبَ وَبِمَا كُنْتُمْ تَدْرُسُوْنَ ﴿٧٩﴾ وَلَا يَاْمُرَكُمْ اَنْ تَتَّخِذُوا الْمَلٰٓئِكَةَ وَالنَّبِيّٖنَ اَرْبَابًا ؕ
اَيَاْمُرُكُمْ بِالْكُفْرِ بَعْدَ اِذْ اَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴿٨٠﴾ وَاِذْ اَخَذَ اللّٰهُ مِيْثَاقَ النَّبِيّٖنَ لَمَآ اٰتَيْتُكُمْ مِّنْ
كِتٰبٍ وَّحِكْمَةٍ ثُمَّ جَآءَكُمْ رَسُوْلٌ مُّصَدِّقٌ لِّمَا مَعَكُمْ لَتُؤْمِنُنَّ بِهٖ وَلَتَنْصُرُنَّهٗ ؕ قَالَ ءَاَقْرَرْتُمْ
وَاَخَذْتُمْ عَلٰى ذٰلِكُمْ اِصْرِيْ ؕ قَالُوْٓا اَقْرَرْنَا ؕ قَالَ فَاشْهَدُوْا وَاَنَا مَعَكُمْ مِّنَ الشّٰهِدِيْنَ ﴿٨١﴾ فَمَنْ تَوَلّٰى

اللّٰه تعالیٰ کتاب اوپوهه دَ دین اوپیغمبری بیا چه اُوائی خلقوته شئے تاسو بندګی کؤونکی ځما سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه اولیکن (وائی) شئے تاسوخدائی خلق په وجه د دے چه خودنے کوئ دَ کتاب دَ اللّٰه تعالیٰ اوپه دے وجه چه تاسو ایزده کوئے کتاب(۷۹) اواجازت نه درکوی تاسوته (پیغمبرﷺ) چه اوګنړئے ملائك اوپیغمبران دَ بندګئ حقدار ایا اجازت درکوی تاسوته دَکفرکولو روستو دَ دے نه چه مسلمانان یئ(۸۰) اوکوم وخت چه واغستو اللّٰه تعالیٰ پوخ لوظ دَ پیغمبرانونه چه هغه چه درکؤوم تاسوته څه کتاب اوپوهه دَ دین بیا راشی تاسوته رسول (اخری) تصدیق کؤونکے دَ هغه (کتابونو) چه تاسوسره دی نوضرور ایمان به راوړئے په هغه باندے، اوضرور امداد به کوئے دَ هغه، اوفرمائل اللّٰه تعالیٰ ایا اقرار اوکړوتاسو؟ اوقبوله کړه تاسو په دے شرطونو وعده ځما دوی اُویل: اقرار اوکړو مونږ اوفرمائیل اللّٰه تعالیٰ پس بیان کوئے دَ دے اوځه ستاسو سره دَ بیان کؤونکونه یم (۸۱) پس چاچه مخ واړؤو

اللسان (ژبه اړول) یا خپل کلام په وزن دَکلام اللّٰه لولی اونسبت دَهغے اللّٰه تعالیٰ ته کوی بل داچه تحریف لفظی کوی۔ لیّ اللسان، دادے چه راعنا کښ الف وئیل دارنګ اوس منکران دَبشریت دَ رسول نه دا سے لولی چه ﴿اِنَّ مَا اَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ﴾ یعنی اِنَّ دَما نه جدا لولی اوما دَپاره دَنفی وائی۔

[۷۹] په دے کښ ذکردَلسم قباحت دے نسبت دَجوازدَشرك نیکانوته چه هغوی داسے وصیت کړیدے، اوجواب دے دَ سوال دَ نصاریٰ چه دوی وئیل، عیسیٰ علیه السلام حکم کړے دے چه ځما بندګی کوئے ځه به ستاسوحاجتونه پوره کوؤم۔ دَ جواب حاصل دا دے چه پیغمبرداسے نه کوی چه خلقوته دَخپلے بندګئ حکم ورکړی اونه دا اجازت کوی چه دَ ملائکو یانورو بزرګانو عبادت اوکړئ ځکه دا کفر اوشرك دے اوپیغمبر چاته دَ شرك حکم نه ورکوی۔ او دَ دے جواب سورة مائده (۱۱۶) کښ هم شته ﴿رَبّٰنِيّٖنَ﴾ ربانی هغه څوك دے چه دَ کتاب اللّٰه درس وتدریس کوی په دلیل دَ روستو جملے سره۔

فائده۱: په دے ایت کښ دلیل دے چه عبد النبی عبدالرسول وغیره نومونه کیخودل ناجائزدی۔

فائده۲: دے کښ اشاره ده چه دَ درس اوتدریس دَکتاب اللّٰه سره ربانیت حاصلیږی دَ دے نه غوره کارنیشته۔

فائده۳: ربانی منسوب دے رب ته الف نون دَتاکید دپاره زیاتی شویدے۔

[۸۰] دابل جواب دے دَ نسبت دَ الوهیت عیسیٰ علیه السلام ته دا دلیل دے چه دَ اللّٰه تعالیٰ نه سوا ملك اونبی ولی وغیره رب ګنړل کفردے۔ او دے ته شرك فی الربوبیت وئیلے شی۔

[۸۱] په دے کښ یؤولسم قباحت ذکرکولودَپاره تمهید دے اوبیان دَصدق دَ رسول دے او روستودوو

بَعْدَ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿٨٢﴾ اَفَغَيْرَ دِيْنِ اللّٰهِ يَبْغُوْنَ وَلَهٗٓ اَسْلَمَ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ طَوْعًا وَّكَرْهًا وَّاِلَيْهِ يُرْجَعُوْنَ ﴿٨٣﴾ قُلْ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَمَآ اُنْزِلَ عَلَيْنَا وَمَآ اُنْزِلَ عَلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ وَاِسْمٰعِيْلَ وَاِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ وَالْاَسْبَاطِ وَمَآ اُوْتِيَ مُوْسٰى وَعِيْسٰى وَالنَّبِيُّوْنَ مِنْ رَّبِّهِمْ ۪ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْهُمْ ۫ وَنَحْنُ لَهٗ مُسْلِمُوْنَ ﴿٨٤﴾ وَمَنْ يَّبْتَغِ غَيْرَ الْاِسْلَامِ دِيْنًا فَلَنْ يُّقْبَلَ مِنْهُ ۚ وَهُوَ فِي

روستو دَ دینه پس دغه کسان دوی پوره نافرمان دی (۸۲)ایا پس سیوا دَ دین دَ اللّٰه تعالیٰ نه دوی غواړی بل دین اوخاص هغه ته غاړه ایخے ده هغه چاچه په اسمانونو کښ دی اوځمکه کښ دی په رضا سره اوپه ناچارئے سره اوخاص اللّٰه تعالیٰ ته به اوګرځولے شئے تاسو (۸۳) ته اُوایه ایمان راوړے دے مونږ په اللّٰه تعالیٰ اوپه هغه کتاب چه نازل کړے شوے دے په مونږ باندے اوپه هغه چه نازل کړے شوی دی په ابراهیم(علیه السلام) اواسماعیل(علیه السلام) اواسحاق(علیه السلام) اویعقوب(علیه السلام) اواولاد دَ هغه او هغه کتابونه چه ورکړے شوی ؤو موسیٰ(علیه السلام) ته او عیسیٰ(علیه السلام) ته اونورو پیغمبرانوته دَ طرف دَ رب دَ دوینه جدائی نه کؤو مونږپه مینځ دَ هیڅا کښ دَ دوی نه اومونږ اللّٰه تعالیٰ لره اخلاص کؤونکی دَ بندګئ یو (۸٤) اوچاچه طلب کړوسیوا دَ اسلام نه بل دین پس هیڅرے به قبول نه کړیشی دَ هغه نه اودے به په

اياتونویعنی (۸۲) او(۸۳)کښ قباحت بیانول اوزجرورکول دی په مخ اړولوسرهٔ دَ هغه رسول نه چه دَهغه په باره کښ دَ ټولوانبیاؤنه عهد اغستلے شوے دے اوداعهدپه عالم ارواح کښ دَټولوانبیاؤنه (سیوا دَ اخری نبی نه) اخستے شوے ؤو۔بل روایت دادے چه دَهرنبی نه په وخت دَبعثت دَهغه کښ داعهد اخستلے شوے ؤو ﴿لَتُؤْمِنُنَّ بِهٖ وَلَتَنْصُرُنَّهٗ﴾ دلیل دے چه ټول انبیاء په ایمان رواړلودَ آخری نبی باندے مکلف دی اودَ هغه په نصرت کولو۔ نصرت قولی دا دے چه وصیت اوکړی خپل اُمت ته په ایمان راوړلوسره په آخری نبی اونصرت عملی مشروط دے په شرط دَحیات په زمانه دَهغه کښ۔

فائده: اهل علم لیکلی دی چه دا ایت دلیل دے پدے خبره باندے چه خَضِرعلیه السلام زمونږ دَ نبی په وخت کښ ژوندے نه ووکه ژوندے وے نو دَ دے عهد په وجه به ځمونږ دَ نبی دَ امداد دپاره په بدراُحد وغیره کښ حاضر شوے وے۔

[۸۲] دلته فاسق په معنیٰ دَ کافردے ځکه چه دے دَ اللّٰه تعالیٰ دَحکم نه پوره خارج دے۔ او وصف ئے ځکه ذکرکړو چه کتابیان په دے نوم باندے ډیرخفه کیږی۔

[۸۳] دا زجردے چه ځوك دَ دے نبی ﷺ نه مخ اړوی یعنی توحید نه منی هغه دَ اللّٰه تعالیٰ دَ دین نه سیوابل دین غواړی ﴿اَسْلَمَ﴾ دَ دے نه مراد تابعداری شرعی ده نوملائك اومؤمنان مراد دی او ﴿طَوْعًا﴾ هغه ایمان دے چه بغیرد جنګ نه قبول کړے وی او ﴿كَرْهًا﴾ هغه دے چه پس دَجنګ نه ئے ایمان راوړے وی یا دَ دے نه مراد تابعداری دَ حکم تکوینی ده هغے ته ملائك اومؤمنان طوعا تابع دی اوکافران ورته کرها تابع دی۔ نوپه اول تفسیر سره صرف اهل ایمان مراد شول اوپه دویم تفسیرباندے کافران هم په دے کښ داخل دی۔

[۸٤] دے ایت کښ بیان دَ دین دَ اللّٰه تعالیٰ دے کوم چه مخکښ ایت کښ تیرشوے دے حاصل دادے چه مونږ ایمان په ټولوکتابونواورسولانوباندے لرولیکن بندګی صرف دَ اللّٰه تعالیٰ کوؤ انبیاؤ له عبادت نه

الْاٰخِرَةِ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿٨٥﴾ كَيْفَ يَهْدِي اللّٰهُ قَوْمًا كَفَرُوْا بَعْدَ اِيْمَانِهِمْ وَشَهِدُوْٓا اَنَّ الرَّسُوْلَ حَقٌّ وَّ
جَآءَهُمُ الْبَيِّنٰتُ ؕ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٨٦﴾ اُولٰٓئِكَ جَزَآؤُهُمْ اَنَّ عَلَيْهِمْ لَعْنَةَ اللّٰهِ وَالْمَلٰٓئِكَةِ
وَالنَّاسِ اَجْمَعِيْنَ ﴿٨٧﴾ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۚ لَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ وَلَا هُمْ يُنْظَرُوْنَ ﴿٨٨﴾ اِلَّا الَّذِيْنَ تَابُوْا مِنْ
بَعْدِ ذٰلِكَ وَاَصْلَحُوْا ۙ فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٨٩﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بَعْدَ اِيْمَانِهِمْ ثُمَّ ازْدَادُوْا كُفْرًا لَّنْ
تُقْبَلَ تَوْبَتُهُمْ ۚ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الضَّآلُّوْنَ ﴿٩٠﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَمَاتُوْا وَهُمْ كُفَّارٌ فَلَنْ يُّقْبَلَ مِنْ
اَحَدِهِمْ مِّلْءُ الْاَرْضِ ذَهَبًا وَّلَوِ افْتَدٰى بِهٖ ؕ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ وَّمَا لَهُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ﴿٩١﴾ ع

اخرت کښ دَ زیان والاؤنه وی (۸۵) څنګه به توفیق ورکړی اللّٰه تعالیٰ هغه قوم ته چه کفرئے کړے دے روستودَ ایمان دَ دوینه اوشهادت کړے دے دوی چه یقیناً رسول حق دے اوراغلی دی دوی ته بنکاره دلیلونه اوا للّٰه تعالیٰ توفیق نه ورکوی قوم ظالمانوته (عناد والوته) (۸۶) دغه کسان سزا دَ دوی دا ده چه په دوی باندے لعنت دَ اللّٰه تعالیٰ اودَ ملائکو اودَ خلقو ټولو دے (۸۷) همیشه به وی دوی په هغے کښ نه به شی سپکیدے دَ دوینه عذاب (دَ دوی) اونه به دوی له مهلت ورکیدے شی(۸۸) مګر هغه کسان چه توبه اوباسی پس دَ دینه اونیك عملونه کوی پس یقیناً اللّٰه تعالیٰ بخونکے دے رحم والادے (۸۹) یقیناً هغه کسان چه کفرئے کړے دے پس دَ ایمان نه بیازیات شوی دی دوی په کفرکښ (ترځنکدن پورے) هیڅرے به قبول نشی توبه دَ دوی اودغه کسان دوی لوئے ګمراهان دی (۹۰) یقیناً هغه خلق چه کفرئے کړے دے اومړه شوحال دا دے چه دوی کافران دی پس هیڅرے به قبول نه کړے شی دَ هیڅا دَ دوینه ډکه ځمکه سره زر اګر که بدله ورکړی په هغے سره دغه کسان دپاره دَ دوی عذاب درد ناك دے اونیشته دوی لره ځوك امدادیان (۹۱)

کوؤ داسے په سورة بقره (۱۳۶) کښ هم تیرشوی دی په سورة بقره کښ هغه په جواب دَاعتراض دَ یهودیانو کښ وؤ او دلته مقصد بیان دَ دین دَ اللّٰه تعالیٰ دے۔

[۸۵] په دے کښ سخته زورنه اوتخویف دے هغه چاته چه دَ دین دَ توحید اوسنت نه خلاف بل څیز ته دین وائی لکه مشرك اومبتدع شو ﴿دِيْنًا﴾ اشاره ده چه غیراسلام ته دین وائی اوپه هغے سره اللّٰه تعالیٰ ته تقرب حاصلوی لکه داطریقه دَ یهودو اونصاریٰ اومبتدعینوده نوپه هغے سره تقرب اللّٰه تعالیٰ ته نه حاصلیږی۔ اوچه دین ورته نه وائی نوهغه فاسقان یا کافران دی۔

[۸۶] په دے ایت کښ دولسم قباحت ذکردے چه هغه مرتد کیدل دی سرهٔ دَ پوهے نه دَ ضد دَ وجے نه۔ اواول مراد په دے کښ اهل کتاب دی چه په آخری نبی باندے دَ پیدائش دَ هغه نه مخکے ایمان راوړو اودَهغه دَ رسالت شهادت ئے کولو لکه په سورة بقره (۸۹) کښ دیته اشاره ده اوروستو دَ راتللودَ هغه نه ئے کفراو کړواودارنګ هرمرتد پکښ داخل دے۔

[۸۸،۸۷] دا تخویف اُخروی دے۔ اوداسے په سورة بقره (۱۶۱،۱۶۲) کښ په باره دَ حق پټوونکو کښ تیرشویدی۔

لَنۡ تَنَالُوا الۡبِرَّ حَتّٰى تُنۡفِقُوۡا مِمَّا تُحِبُّوۡنَ ۚ وَمَا تُنۡفِقُوۡا مِنۡ شَىۡءٍ فَاِنَّ اللّٰهَ بِهٖ عَلِيۡمٌ ﴿۹۲﴾ كُلُّ الطَّعَامِ كَانَ حِلًّا لِّبَنِىۡۤ اِسۡرَآءِيۡلَ اِلَّا مَا حَرَّمَ اِسۡرَآءِيۡلُ عَلٰى نَفۡسِهٖ مِنۡ قَبۡلِ اَنۡ تُنَزَّلَ التَّوۡرٰىةُ ؕ قُلۡ فَاۡتُوۡا بِالتَّوۡرٰىةِ فَاتۡلُوۡهَاۤ اِنۡ كُنۡتُمۡ صٰدِقِيۡنَ ﴿۹۳﴾ فَمَنِ افۡتَرٰى عَلَى اللّٰهِ الۡكَذِبَ مِنۡ

هیڅرے به حاصل نه کړئے تاسو نیکی ترهغے چه خرچ کړئے دَ هغه څه نه چه خوښوئے ئے تاسو اوهغه چه خرچ کوئے څه شے پس یقیناً اللّٰه تعالیٰ په هغے ښه پوهه دے (۹۲) ټول خوراکونه (کوم چه دوی په ځان حرام کړی دی) حلال ؤو بنی اسرائیلو لره مګر هغه چه منع کړے ؤویعقوب(علیه السلام) په ځان خپل باندے مخکښے دَ نازلیدلودَ تورات نه اُوایه پس راوړئے تورات پس اولولئے تاسو هغه که ئے تاسو رشتینی (۹۳) پس چاچه جوړ کړو په اللّٰه تعالیٰ باندے دروغ

[۸۹] په دے کښ ذکر دَ توبے دَ عوامو او دَ هغه چادے چه ماسیوا دَ کتمان حق نه نورګناهونه ئے کړی دی۔

[۹۰] دَ دے ایت مطلب دادے چه مرتد چه ترمرګه پورے کفرکوی په وخت دَغرغرے کښ توبه اوباسی نودَ هغه توبه نه قبلیږی ﴿ازۡدَادُوۡا كُفۡرًا﴾ مراد دَ دے همیش پاتے کیدل دی په کفرباندے ترمرګه پورے ﴿الضَّآلُّوۡنَ﴾ مراد دَ دے نه پوره ګمراهان دی یعنی په درجه دَکفرکښ دی۔

[۹۱] دَ دے ایت مطلب دا دے چه توبه اونه باسی اوپه کفرباندے مړشی نوکه څوك دَ دهٔ په فدیه کښ دِکه زمکه سره ورکړی یادے پخپله دَ ځان دَطرف نه په ورځ دَ قیامت فدیه ورکوی نو دا نه قبلیږی نو معلومه شوه چه په ژوند کښ دَ توبے کولونه بغیربله طریقه دَ نجات نیشته۔داسے په سورة مائده (۳۶) اوسورة انعام (۷۰) کښ دی۔

[۹۲] مطلب دا دے چه فدیه پس دَ مرګ نه ځکه نه قبلیږی چه په دغه وخت کښ مال محبوب نه وی او قبولیت هله وی چه محبوب مال خرچ کړے او ﴿مِمَّا تُحِبُّوۡنَ﴾ عام دے دَ دُنیا مشری اقتدار رتبه مالونه وغیره دَ اللّٰه تعالیٰ دَدین دَپاره قربان کول ﴿الۡبِرَّ﴾ دَدینه مراد ثواب دَ نیکئے دے اوهغه جنت دے۔

[۹۳] په دے ایت کښ دَ دوی دیارلسم قباحت ذکردے، او جواب دے دَ سوال دَ دوی، دوی سوال کوؤچه ته اے نبی ﷺ دَ اوښ غوښه حلاله ګنړے اوحال داچه دَ ابراهیم علیه السلام په دین کښ داحرامه وه؟دَجواب حاصل دا دے چه اوښ په دین دَابراهیم علیه السلام کښ حلال وؤاوروستوهم حلال وؤصرف یعقوب علیه السلام په ځان باندے دَ بیمارئ عِرق النساء یا دَ نذرپه وجه باندے (چه دا نذردَ هغه په وخت کښ جائزوؤ) منع کړے وؤاوغوره دا ده چه روستوبیا حلال وؤ۔ لیکن بیا دَ یهودیانودَ ظلم په وجه باندے په دوی باندے حرام شولکه سورة انعام (۱٤٦) کښ دی ﴿اِلَّا مَا حَرَّمَ اِسۡرَآئِيۡلُ﴾ مراد دَ دے نه تحریم لغوی دے په معنیٰ دَ منع کولو اودا استثناء منقطع ده ځکه چه په تحریم دَیعقوب علیه السلام سره په یهودیانوباندے غوښه دَ اوښ حرام کړے شوے نه وه ﴿كُلُّ الطَّعَامِ﴾ مراد دَ دے نه هغه طعامونه دی چه یهودیانوپه ځان باندے بے دلیله حرام کړی وؤ ﴿فَاۡتُوۡا بِالتَّوۡرٰىةِ﴾ ماجدی لیکلی دی چه په تورات موجوده کښ اوس هم دا مسئله شته (پیدائش ۳۱۹)۔

وقف لازم

بَعْدِ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿۹۴﴾ قُلْ صَدَقَ اللّٰهُ ۫ فَاتَّبِعُوْا مِلَّةَ اِبْرٰهِيْمَ حَنِيْفًا ؕ وَمَا كَانَ مِنَ
الْمُشْرِكِيْنَ ﴿۹۵﴾ اِنَّ اَوَّلَ بَيْتٍ وُّضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِيْ بِبَكَّةَ مُبٰرَكًا وَّ هُدًى لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿۹۶﴾ فِيْهِ اٰيٰتٌۢ
بَيِّنٰتٌ مَّقَامُ اِبْرٰهِيْمَ ۚ۬ وَمَنْ دَخَلَهٗ كَانَ اٰمِنًا ؕ وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ اِلَيْهِ
سَبِيْلًا ؕ وَمَنْ كَفَرَ فَاِنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ عَنِ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۹۷﴾ قُلْ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ لِمَ تَكْفُرُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ۖ

روستودَ دینه پس دغه کسان خاص دوی ظالمان دی (۹۴) اُوایه رشتیاویلی دی اللّٰه تعالیٰ پس تابعداری اوکړئے دَ دین ابراهیم(علیه السلام) چه کلك مؤحد ؤو اونه ؤو دَ مشرکانونه (۹۵) یقیناً اول کور چه مقررکړے شوے دے خلقو دپاره ضرورهغه دے چه په مکه معظمه کښ دے دَ برکت نه ډك دے اوهدایت دے دپاره دَ خلقو (۹۶) په دے کښ نښے دی ښکاره (دَ قدرت دَ اللّٰه تعالیٰ) یودَ هغے نه ځائے دَ ابراهیم(علیه السلام) دے اوځوك چه داخل شودے ته وی به امن والا او دے اللّٰه تعالیٰ دپاره په خلقو باندے حج دَ بیت اللّٰه (فرض دے) په هغه چاچه طاقت لری هغے ته دَ لارے اوچاچه کفراوکړو (په انکاردَ حج سره) پس یقیناً اللّٰه تعالیٰ غنی دے دَ ټولوخلقونه (۹۷) اُوایه اے کتاب والو: ولے کفر کوئے په اٰیاتونودَ اللّٰه تعالیٰ

[۹۴] دا زورنه ده دروغ جوړوونکوته ﴿مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ﴾ یعنی روستودَ وضاحت کولودَ قرآن نه چه ځوك دَ خپلومشرانوملایانو په دروغو پسے روان وی نوهغه ډیرلوئے ظالم دے۔

[۹۵] دے اٰیت کښ بل رد دے په یهودیانواعتراض کوؤنکوباندے چه په دین دَابراهیم(علیه السلام) کښ شرك نیشته اوتاسومشرکان یئ اودعویٰ دَ دین ابراهیم کوئے۔

[۹۶] په دے اٰیت کښ ځوارلسم قباحت دَهغوی ذکرکوی، اوجواب دَ سوال دے سوال دا دے دوی وئیل چه مونږستاسونه غوره یوځکه چه ځمونږقبله ستاسودَ قبلے نه مخکښ ده؟ جواب اوشو چه دا دلیل غلط دے ﴿بَكَّةَ﴾ مسجد حرام ته وئیلے کیږی اومکّه ټول بنارته وئیلے کیږی ﴿مُبٰرَكًا﴾ مبارك ځکه دے چه دَ لږعبادت ثواب پکښ ډیردے یومونځ دَ مسجد حرام یوپه لاکھ ثواب لری اوډنیوی برکات هم پکښ شته۔ ﴿هُدًى﴾هدایت ځکه دے چه قبله دَټول مخلوق مخکنو اوروستنو اومرکزدَ هدایت هم دے ﴿وُضِعَ﴾ مراد دَ دے نه مقررکول دَپاره دَعبادت دی ﴿لِلنَّاسِ﴾ دلیل دے چه کعبه قبله دَټولوخلقو وه ماسیوا دَ نبی ﷺ نه چه دَ هغه دَپاره شپارس یا اوولس میاشتے قبله بیت المقدس وه اوبیا منسوخ شوه۔

[۹۷] ﴿اٰيٰتٌۢ بَيِّنٰتٌ﴾ حجر اسود، ملتزم، رکن یمانی، زمزم، نزول دَ انوارالٰهیه، اطمینان دَ زړونوپه لیدلودَ هغے، داټول ایات بینات دی ﴿كَانَ اٰمِنًا﴾ یومراد دا دے چه ځوك بیت اللّٰه ته په ایمان سره داخل شونودَ اللّٰه تعالیٰ دَ عذاب نه به په امن سره وی، بل مراد دا دے حرم ته چه ځوك داخل شونوهغه شرعاً په امن دے دَ هغه بے عزتی، قتل کول ډیرغټ ګناه دے ﴿وَلِلّٰهِ﴾ دائے ځکه اوفرمائیل چه مشرکانو حج دَ ریاء اودَ احترام دَ خپلومعبودانودپاره کوؤ ﴿مَقَامُ اِبْرٰهِيْمَ﴾ مبتدا ئے پته ده یو دَهغے نه مقام ابراهیم دے هغه یوګټه ده چه ابراهیم علیه السلام په هغے باندے اودریدلو په وخت دَ آبادئے کولو دَ کعبے کښ۔ یامراد په دے سره ځایونه دَا ودریدلو دَابراهیم علیه السلام دی دَپاره دَ مونځ اودُعاګانوکولو نوهغے کښ مسجد حرام، صفا مروه، منیٰ، مزدلفه ټول داخل وی ﴿مَنِ اسْتَطَاعَ اِلَيْهِ سَبِيْلًا﴾ مراد دَ دے نه توښه او زاد دَ سفردَ حج اوکرایه دَ

وَاللّٰهُ شَهِيْدٌ عَلٰى مَا تَعْمَلُوْنَ ﴿۹۸﴾ قُلْ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ لِمَ تَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ مَنْ اٰمَنَ
تَبْغُوْنَهَا عِوَجًا وَّاَنْتُمْ شُهَدَآءُ ؕ وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿۹۹﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنْ
تُطِيْعُوْا فَرِيْقًا مِّنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ يَرُدُّوْكُمْ بَعْدَ اِيْمَانِكُمْ كٰفِرِيْنَ ﴿۱۰۰﴾ وَكَيْفَ تَكْفُرُوْنَ وَاَنْتُمْ
تُتْلٰى عَلَيْكُمْ اٰيٰتُ اللّٰهِ وَفِيْكُمْ رَسُوْلُهٗ ؕ وَمَنْ يَّعْتَصِمْ بِاللّٰهِ فَقَدْ هُدِيَ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۱۰۱﴾ ع
يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ حَقَّ تُقٰتِهٖ وَلَا تَمُوْتُنَّ اِلَّا وَاَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴿۱۰۲﴾ وَاعْتَصِمُوْا بِحَبْلِ

او اللّٰه خبردے په هغه عملونوچه تاسو کوئے (۹۸) اُوایه اے کتاب والو: ولے منع کوئے دَ لارے دَ اللّٰه تعالیٰ نه هغه څوك چه ایمان راوړی چه لټوئے په هغے کښ کږلیچ، اوتاسو خبرئے (په حقانیت دَ دے) اونه دے اللّٰه تعالیٰ غافل دَ هغه عملونونه چه تاسو کوئے (۹۹) اے ایمان والو که تابعداری اوکړئے دَ یوډلے دَ هغه کسانونه چه ورکړے شوے دے ورته کتاب، اوبه ګرځوی تاسوپس دَ ایمان ستاسونه کافران (۱۰۰) اوځنګه کفرکوئے تاسو اولوستلے کیږی په تاسو باندے ایاتونه دَ اللّٰه تعالیٰ اوپه تاسوکښ رسول دَ اللّٰه تعالیٰ دے اوچاچه منګولے اولګولے په دین دَ اللّٰه تعالیٰ پورے پس یقیناً اورسولے شونیغے لارے ته (۱۰۱) اے ایمان والو ویره کوئے دَ اللّٰه تعالیٰ نه لائقه یره دَ هغه اومه مرئے مګرپه داسے حال چه تاسومنونکی دَ توحید یئ (۱۰۲) اوکلك شئے په رسئے

سورلئ زیاتی دَ ضروریاتودَکور اواهل وعیال نه ﴿وَمَنْ كَفَرَ﴾ څوك چه انکارکوی دَ فرضیت دَحج نه نوهغه کافر دے۔

[۹۸] دا کتابیانوته زورنه ده او مراد دَ کفرنه عمل نه کول دی او مراد دَ آیات اللّٰه دلته قرآن کریم دے۔

[۹۹] دابل زجردے په ګمراه کولودَ خلقوباندے روستودَ ذکردَ ګمراهئ دَ هغوی نه﴿عِوَجاً﴾نه مرادشکونه اواعتراضونه کول دی۔ عوج، په زور دَ عین سره استعمالیږی په اجساموکښ اوپه زیردَ عین سره استعمالیږی په امورمعنویه کښ۔

[۱۰۰] په دے کښ منع دَ تابعداریٔ دَکتابیانونه ده پس دَ بیان دَ قبائحو دَ دوی نه یعنی دَ دوی اطاعت کول سبب دَ مرتدکیدلو دے۔

[۱۰۱] دا بله وجه ده دَ منع دَ اتباع دَ هغوی نه مطلب دا دے چه قرآن پاك اوسنت دَ رسول ﷺ شته نودَکفرکولو دپاره هیڅ وجه اوعذرنیشته۔ رسول اللّٰه ﷺ اګرچه وفات شوے دے نوذات دَهغه اوس مونږسره حاضر ندے لیکن صفت دَرسالت دَ هغه موجود دے چه هغه دین اوسنت دَ هغه دی ﴿بِاللّٰهِ﴾ مراد دَ اعتصام نه توکل کول دی یا عمل کول اودَباللّٰه نه کتاب دَاللّٰه او سنت دَ رسول اللّٰه مراد دی۔

[۱۰۲] دَ دے ایت نه دریمه حصه دَسورة ده تر(۱۲۹)پورے په دے کښ دَ مسلمانانودَ تنظیم دپاره اودَ دین دَ اشاعت دپاره اودَ جهاد دپاره پنځه اصول ذکرکوی اوبیادوه مثاله دی۔ دَ دے آیت مقصد دا دے چه په عقیده دَ توحید باندے ترمرګه پورے کلك اوسئی دا اول اصل دے اودیته اصلاح نفس وئیلے کیږی﴿حَقَّ تُقٰتِهٖ﴾ لائقه ویره توحید ته وائی ځکه مشرك هم دَ اللّٰه تعالیٰ نه ویریږی لیکن دغسے دَ غیراللّٰه نه هم ویره

اللّٰهِ جَمِيْعًا وَّلَا تَفَرَّقُوْا ۠ وَاذْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ اِذْ كُنْتُمْ اَعْدَآءً فَاَلَّفَ بَيْنَ قُلُوْبِكُمْ
فَاَصْبَحْتُمْ بِنِعْمَتِهٖٓ اِخْوَانًا ۚ وَكُنْتُمْ عَلٰى شَفَا حُفْرَةٍ مِّنَ النَّارِ فَاَنْقَذَكُمْ مِّنْهَا ؕ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ
اللّٰهُ لَكُمْ اٰيٰتِهٖ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ ﴿۱۰۳﴾ وَلْتَكُنْ مِّنْكُمْ اُمَّةٌ يَّدْعُوْنَ اِلَى الْخَيْرِ وَيَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ
وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ ؕ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿۱۰۴﴾ وَلَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ تَفَرَّقُوْا وَاخْتَلَفُوْا مِنْۢ بَعْدِ مَا
جَآءَهُمُ الْبَيِّنٰتُ ؕ وَاُولٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿۱۰۵﴾ يَّوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوْهٌ وَّتَسْوَدُّ وُجُوْهٌ ۚ فَاَمَّا الَّذِيْنَ

دَ اللّٰه تعالیٰ پورے ټول اومه جداکیږئ (دَ دے رسئے نه) اویاد کړئے احسان دَ اللّٰه تعالیٰ په تاسو باندے کله چه تاسو دُشمنان وئے پس جوړخ ئیے واچؤو په مینځ دَ زړونوستاسو کښ پس شولے تاسو په نعمت دَ اللّٰه تعالیٰ سره رونړه اووئے تاسو په غاړه دَ کندے دَ اورپس بچ ئے کړئے تاسو دَ اورنه دغسے بیانوی اللّٰه تعالیٰ تاسوته احکام خپل دَ دے دپاره چه لاراومومئے (۱۰۳) او وی دِ ستاسونه یوډله چه بلنه کوی خیرطرف ته اوحکم کوی په نیکئے سره اومنع کوی دَ بدے نه، اودغه کسان خاص دوی کامیاب دی(۱۰۴) اومه کیږئے په شان دَ هغه چاچه جداشول او اختلاف ئے کړے دے روستو دَ هغے نه چه راغلل دوی ته ښکاره حکمونه اودغه کسان دوی لره عذاب لوئے دے (۱۰۵) په هغه ورځ چه سپین به شی بعضے مخونه اوتوربه شی بعضے مخونه پس هغه کسان

کوی نو لائقه ویره نشوه۔ اودَ هغه دَ ویرے دَوجے نه دَ هرګناه نه ځان ساتل حتی الاستطاعت یعنی مؤحدینوله پکاردی چه دَ توحید سره په کامله تقویٰ باندے پابند شی ﴿وَلَا تَمُوْتُنَّ اِلَّا وَاَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ﴾ یعنی ترمرګه پورے په اسلام باندے کلك اوسئے۔

[۱۰۳] دا دویم اصل دے اومقصد دَ دے اصلاح دَ ارکانودَ جماعت ده دپاره دَ دے چه اختلاف اوتنازع پیدانشی اوهغه دا چه ټول په قرآن پاك اوسنت دَ رسول ﷺ باندے کلك شئے اوخپلے فیصلے په دے دواړو باندے کوئے په هغے کښ دوه فائدے دی (۱) دُشمنی به په دوستانه بدله شی (۲) دَ جهنم نه به خلاص شئے دغسے حال دَ صحابه کرامو ﷺ (انصارو) وؤ۔

[۱۰۴] دا دریم اصل دے او مقصد په دے کښ اصلاح دَ اجانبو اونشرو اشاعت دَ دین حقه دے او هغه دا چه یو جماعت دِ داسے وی چه دعوت خیرته کوی اودا فرض کفائی دے ﴿اَلْخَيْرِ﴾ وئیلے کیږی قرآن پاك اوسنت ته ﴿بِالْمَعْرُوْفِ﴾ هرهغه شے دے چه دَ قرآن پاك اوسنت سره موافق وی اول په هغے کښ توحید دے بیا سنت دے ﴿اَلْمُنْكَرِ﴾ هرهغه شے دے چه دَ قرآن اوسنت نه مخالف وی په هغے کښ اول شرك دے اوبیا بدعت اوفسق دے ﴿يَاْمُرُوْنَ﴾ دا تفسیر دَ یدعون دے دا دلیل دیے چه دعوت کامله یوائے په امر بالمعروف سره او یوائے په رد دَ منکرسره نه کیږی بلکه دواړه یوځائے کول پکاردی۔

[۱۰۵] په دے ایت کښ اشاره ده چه چا دعوت الی الخیر پریخودلو نوپه هغے قوم کښ تفرقه او فساد پیداکیږی اوسبب دَ لوئے عذاب دے ﴿كَالَّذِيْنَ تَفَرَّقُوْا وَاخْتَلَفُوْا﴾ اول تفرق دَ عقیدو اودَ آراؤ پیداشی اوهغه سبب شی دَپاره دَ اختلاف دَ عملونو او دَ جګړو او د دے مصداق یهود اونصاریٰ وؤ او قرطبی وئیلی

اسْوَدَّتْ وُجُوْهُهُمْ ۚ اَكَفَرْتُمْ بَعْدَ اِيْمَانِكُمْ فَذُوْقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُوْنَ ﴿۱۰۶﴾ وَاَمَّا
الَّذِيْنَ ابْيَضَّتْ وُجُوْهُهُمْ فَفِيْ رَحْمَةِ اللّٰهِ ؕ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۱۰۷﴾ تِلْكَ اٰيٰتُ اللّٰهِ نَتْلُوْهَا
عَلَيْكَ بِالْحَقِّ ؕ وَمَا اللّٰهُ يُرِيْدُ ظُلْمًا لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۰۸﴾ وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ وَاِلَى اللّٰهِ
تُرْجَعُ الْاُمُوْرُ ﴿۱۰۹﴾ ع ۱۴ كُنْتُمْ خَيْرَ اُمَّةٍ اُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُوْنَ
بِاللّٰهِ ؕ وَلَوْ اٰمَنَ اَهْلُ الْكِتٰبِ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ ؕ مِنْهُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ وَاَكْثَرُهُمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿۱۱۰﴾ لَنْ

چه توربه شی مخونه دَ دوی (اوبه ویلې شی) ایاکفر کړے دے تاسو پس دَ ایمان ستاسونه پس اوځکئے عذاب په سبب دَ هغے چه تاسو کفر کړو (۱۰۶) اوهغه کسان چه سپین شی مخونه دَ هغوی پس دوئ به په رحمت دَ اللّٰه تعالیٰ کښ وی دوی به په هغے کښ همیشه وی (۱۰۷) دا ایاتونه دَ اللّٰه تعالیٰ دی مونږ لولوپه تاباندے دَ پاره دَ حق سکاره کولو اواللّٰه اراده نه کوی دَ ظلم کولوپه خلقو باندے(۱۰۸) اوخاص دَ اللّٰه تعالیٰ په اختیارکښ دی هغه څه چه په آسمانونو کښ دی اوهغه څه چه په زمکه کښ دی اوخاص اللّٰه تعالیٰ ته ورګرځولے شی ټول کارونه (۱۰۹) یئ تاسو غوره اُمت چه راویستی شوی ئے دپاره دَ نفع دَ خلقوحکم به کوئے تاسوپه نیکئی سره اومنع کوئے دَ بدئے نه اوایمان به لرئے په اللّٰه تعالیٰ اوکه ایمان راوړو کتابیانو ضرور غوره به وی دَ دوی دپاره، بعضے دَ دوی نه ایمان والا دی اوډیرد دوینه نافرمان دی (۱۱۰) هیڅرے

دی چه دَ بدعتیانو ټولو ډلوته دا آیت شامل دے۔

[۱۰۶] مفسرینوؒ روایت کړے دے دَ ابن عباس رضی اللّٰه عنهما نه چه سپین به شی مخونه دَ سنت دَ تابعدارو اوتوربه شی مخونه دَ بدعتیانو، اوتخویف دے۔ او دا پشان دَ سورة عبس (۳۸،۴۰) دے۔ ﴿اَكَفَرْتُمْ﴾ دَ دے نه مخکے (اوبه وئیلے شی دوی ته) پټ دے کفرحقیقی روستودَایمان نه په مرتدینو کښ دے اوداحال دَیهودوپه (۸۶) کښ ذکرشواوکفرحکمی په مبتدعینو اونورو مفسدینو کښ شته نو دواړه قسمونوته شامل دے۔

[۱۰۷] رحمت دَ اللّٰه تعالیٰ جنت دے اودا زیرے اُخروی دے۔

[۱۰۸] دے ایت کښ بیان دَصدق دَ رسول دے چه دَ دفع دَاختلاف دپاره اللّٰه تعالیٰ رسول رالیږلے دے۔ ﴿ظُلْماً﴾ ظلم کول دَاللّٰه تعالیٰ په بل چا باندے په دے نفی سره مراد دے دا معنیٰ نه ده چه بندګان چه ظلم کوی نو دَ دے اراده اللّٰه تعالیٰ نه ده کړے دا خو دَمعتزلومذهب دے۔

[۱۰۹] پس دَ صدق دَ رسول نه بیان دَ توحید دے چه واکدار صرف اللّٰه تعالیٰ دے او رد دَ شرك فی التصرف دے۔

[۱۱۰] داترغیب دے دعوت ته متعلق دَ(۱۰۴) سره، غوره والے دَ دے اُمت په سبب دَ دعوت سره دے۔ ﴿اُخْرِجَتْ﴾ کښ اشاره ده دے خبرے ته چه دعوت کوؤنکے سکاره وی خلقوکښ مشهوروی بله اشاره دے ته ده چه دعوت دپاره وتل پکار دی ﴿وَتُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ﴾ دَ دعوت نه روستودَ ایمان مطلب دا دے چه

يَضُرُّوكُمْ إِلَّا أَذًى ۖ وَإِنْ يُقَاتِلُوكُمْ يُوَلُّوكُمُ الْأَدْبَارَ ثُمَّ لَا يُنْصَرُونَ ﴿١١١﴾ ضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ
الذِّلَّةُ أَيْنَ مَا ثُقِفُوا إِلَّا بِحَبْلٍ مِنَ اللَّهِ وَحَبْلٍ مِنَ النَّاسِ وَبَاءُو بِغَضَبٍ مِنَ اللَّهِ وَضُرِبَتْ
عَلَيْهِمُ الْمَسْكَنَةُ ۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَانُوا يَكْفُرُونَ بِآيَاتِ اللَّهِ وَيَقْتُلُونَ الْأَنْبِيَاءَ بِغَيْرِ حَقٍّ ۚ ذَٰلِكَ
بِمَا عَصَوا وَكَانُوا يَعْتَدُونَ ﴿١١٢﴾ لَيْسُوا سَوَاءً ۗ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ أُمَّةٌ قَائِمَةٌ يَتْلُونَ آيَاتِ اللَّهِ آنَاءَ
اللَّيْلِ وَهُمْ يَسْجُدُونَ ﴿١١٣﴾ يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ

ضررنه شی درکولے دوی تاسوته مګر بده وینا کول او که جنګ کوی تاسوسره اوبه ګرځوی تاسوته شاګانی بیابه دوی سره امداد نشی کیدے (۱۱۱) ټاپه شوے دے په دوی باندے ذلت (دَ ظاهر) هرځائے چه دوی اومندلے شی مګرچه منګولے اولګوی په رسئے دَ اللّٰه اوپه رسئے دَ مؤمنانو اواخته شوی دی په غضب دَ اللّٰه تعالیٰ اوټاپه شوے ده په دوی باندے خواری (دَ زړه) داپه سبب دَ دے چه دوی کفرکؤوپه ایاتونو دَ اللّٰه تعالیٰ او وژل ئے پیغمبران بغیرد جرم شرعی نه داپه سبب دَ دے چه دوی نافرمانی کوله اودَ حد نه ئے تیریدل کول (۱۱۲) نه دی دوی یوشان بعضے دَکتاب والونه یوډله ده ولاړ (مظبوط په دین) لولی ایاتونه دَ اللّٰه تعالیٰ په وختونو دَ شپے کښ او دوی سجدے کوی (۱۱۳)ایمان لری په اللّٰه تعالیٰ اوپه ورځ روستئے اوحکم کوی په نیکئے سره اومنع کوی دَ

یقین کوی په مدد دَ اللّٰه تعالیٰ بل داچه دَ دعوت سره کمال دَایمان لری۔

فائده: دَ دے ایت نه ئے دَاهل علمو دوه قسمه ذکرکړی دی اودَ هر یولس لس صفات اوحالات بیان شول۔په دے آیت کښ یویو صفت ذکرشویدے۔

[۱۱۱] دے کښ دوه قباحتونه ذکردی ﴿اَذًی﴾ دَ ژبے بد رد وینا ته وئیلے شی بهتانونه، طعنونه او کنځلے په دے کښ داخل دی په دے آیت کښ چه څومره پیشینګوئے دی نو هغه ټولے رشتینے شویدی۔

[۱۱۲] ﴿بِحَبْلٍ مِّنَ اللّٰهِ وَحَبْلٍ مِّنَ النَّاسِ﴾ کتاب اللّٰه اوسنت دَ رسول اللّٰه دے چه دَ هغے په منلوسره دَ ذلت نه بچ کیږی بعضوتفسیرد حَبْلٍ مِّنَ النَّاسِ۔په جزیه سره کړے دے لیکن جزیه هم ذلت دے هاں که دَ ذلت نه مراد صرف خوف دَ قتل وی نوهغه په جزیه سره زائل کیږی ذلت دَ باطن صفت دے اومسکنة دَ ظاهروصف دے اوپدے ایت کښ دَ دوی نورقبائح ذکردی۔

[۱۱۳]دَ دے ځائے نه دویم قسم اهل علم ذکرکوی دَ هغوی هم لس صفات دی ﴿لَيْسُوا سَوَاءً﴾ یعنی په تیرشوی قبائحو کښ ټول برابرنه دی بلکه ښه صفاتو والاهم په دوی کښ شته دے ﴿قَائِمَةٌ﴾ دَ دے دوه معنے دی اوله معنیٰ مستقیمة(په دین باندے کلك اولاړ) دویمه معنیٰ په ولاړے سره مونځ ادا کوؤنکی۔ ﴿اٰنَآءَ الَّيْلِ﴾ دَ روزهم مونځ کوی لیکن مونځ دَ شپے (تهجد کول) ډیرفضیلت لری۔

الْمُنْكَرِ وَيُسَارِعُوْنَ فِي الْخَيْرٰتِ ؕ وَاُولٰٓئِكَ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۱۱۴﴾ وَمَا يَفْعَلُوْا مِنْ خَيْرٍ فَلَنْ يُّكْفَرُوْهُ ؕ
وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِالْمُتَّقِيْنَ ﴿۱۱۵﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَنْ تُغْنِيَ عَنْهُمْ اَمْوَالُهُمْ وَلَآ اَوْلَادُهُمْ مِّنَ اللّٰهِ
شَيْـًٔا ؕ وَاُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۱۱۶﴾ مَثَلُ مَا يُنْفِقُوْنَ فِيْ هٰذِهِ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا كَمَثَلِ
رِيْحٍ فِيْهَا صِرٌّ اَصَابَتْ حَرْثَ قَوْمٍ ظَلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ فَاَهْلَكَتْهُ ؕ وَمَا ظَلَمَهُمُ اللّٰهُ وَلٰكِنْ اَنْفُسَهُمْ
يَظْلِمُوْنَ ﴿۱۱۷﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوْا بِطَانَةً مِّنْ دُوْنِكُمْ لَا يَاْلُوْنَكُمْ خَبَالًا ؕ وَدُّوْا

بدے نه اوجلتی کوی په نیکو کارونو کښ اودغه کسان دَ نیکانو دَ ډلے نه دی (۱۱٤) اوهغه چه کوی دوی څه نیك کارپس هیڅرے محرومه به نشی دَ ثواب دَ هغے نه او اللّٰه پوهه دے دَ متقیانو په حال باندے (۱۱۵) یقیناً هغه کسان چه کفرئے کړے دے هیڅرے به لرے نکړی دَ دوی نه مالونه دَ دوی اونه اولاد دَ دوی دَ عذاب دَ اللّٰه تعالیٰ نه څه شے اودغه کسان اور والادی دوی به په هغے کښ همیشه وی(۱۱٦) مثال دَ هغه مالونوچه خرچ کوی ئے دوی دپاره دَ ژوند دنیوی پشان دَ حال دَ سیلئے دے چه په هغے کښ یخه ګلے وی اورسی فصل دَ هغه قوم ته چه ظلم ئے کړے وی په ځانونو خپلو باندے پس تباه کړی هغه اوظلم نه دے کړے په دوی باندے اللّٰه تعالیٰ اولیکن دوی په ځانونو خپلو ظلم کوی (۱۱۷) اے ایمان والو: مه نیسئے دوست رازدار سیوا دَ ستاسودَ ایمان والونه کمے نه کوی دوی په نقصان ستاسو کښ خوښه وی

[۱۱٤] ﴿يُسَارِعُوْنَ﴾مسارعت دیته وائی چه اهم شے مخکښ کوی په غیراهم باندے اوعجلت دَ دے په عکس دے، دَ دے وجے نه مسارعت ښه صفت دے۔ اوعجلت شیطانی صفت دے او﴿اُولٰٓئِكَ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ﴾ یعنی دَ نیکانودَ ډلے سره تعلق ساتی دَ بدئے دَ مجلسونونه بچ کیږی ﴿يُؤْمِنُوْنَ﴾ دلته ایمان نه مراد کامل ایمان دے اوکمال دَایمان په دعوت سره حاصلیږی۔

[۱۱۵] خیراګرچه عام دے تیرشوۀصفاتوته لیکن په خیرکښ داهم داخل ده چه په دین باندے خرچ کوی اوپه دے کښ ځلورم اصل ته اشاره ده چه په دین باندے خرچ کول ضروری دی سرهٔ دَ تقویٰ اودَ ایمان نه ﴿فَلَنْ يُّكْفَرُوْهُ﴾ دا دَکفران نه ماخوذ دے ناشکری اودَ ثواب نه محروم کیدل ﴿بِالْمُتَّقِيْنَ﴾ هغه کسان چه په دغه لس صفتونوسره موصوف دی هغوی مراد دی په المتقین کښ۔

[۱۱٦] په دے ایت کښ ویره دَ اخرت ده۔ اومراد دا دے چه دَ هرخیراوخصوصاً دَ خرچ کولوسره ایمان پکار دے، ځکه چه په حال دَ کفر کښ مال او اولاد څه فائده نه ورکوی۔

[۱۱۷] مراد دَ دے نه دا دے چه مالونه دَ دُنیا دَ مفاداتودپاره خرچ کوی دَ دُنیا اقتدار وغیره دپاره خرچ کوی۔ یا مراد دا دے چه سرهٔ دَکفراودَ شرك نه خیراتونه کوی، نودا برباد دی اشاره ده چه دَ خرچ سره اخلاص پکاردے ﴿صِرٌّ﴾ سخت یخ ځیزته وئیلے شی ګلئے یا واوره۔

مَا عَنِتُّمْ ۚ قَدْ بَدَتِ الْبَغْضَآءُ مِنْ اَفْوَاهِهِمْ ۖ وَ مَا تُخْفِيْ صُدُوْرُهُمْ اَكْبَرُ ؕ قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ
الْاٰيٰتِ اِنْ كُنْتُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿۱۱۸﴾ هٰۤاَنْتُمْ اُولَآءِ تُحِبُّوْنَهُمْ وَلَا يُحِبُّوْنَكُمْ وَتُؤْمِنُوْنَ بِالْكِتٰبِ كُلِّهٖ ۚ
وَاِذَا لَقُوْكُمْ قَالُوْۤا اٰمَنَّا ۖۚ وَاِذَا خَلَوْا عَضُّوْا عَلَيْكُمُ الْاَنَامِلَ مِنَ الْغَيْظِ ؕ قُلْ مُوْتُوْا بِغَيْظِكُمْ ؕ اِنَّ
اللّٰهَ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿۱۱۹﴾ اِنْ تَمْسَسْكُمْ حَسَنَةٌ تَسُؤْهُمْ ۫ وَاِنْ تُصِبْكُمْ سَيِّئَةٌ يَّفْرَحُوْا
بِهَا ؕ وَاِنْ تَصْبِرُوْا وَتَتَّقُوْا لَا يَضُرُّكُمْ كَيْدُهُمْ شَيْـًٔا ؕ اِنَّ اللّٰهَ بِمَا يَعْمَلُوْنَ مُحِيْطٌ ﴿۱۲۰﴾ ع وَاِذْ

ع ۱۴ ۲

هغه چه تکلیف کښې اچوی تاسو یقیناً ښکاره شوے ده کینه دَ خولودَ دوینه اوهغه چه پټوی سینے دَ دوی ډیر زیات دے، یقیناً بیان کړی دی مونږ تاسوته نښے دَ دوی که تاسو عقل لرئے(۱۱۸) خبردار تاسو (اے مؤمنانو) مینه کوئے دَ دوی سره اودوی مینه نه کوی تاسو سره او ایمان لرئے تا سوپه ټول کتاب باندے او کله چه دوی مخامخ شی تاسو سره وائی دوی ایمان راوړے مونږ اوکله چه لاړشی دوی ستاسونه چکونه لګوی په تاسو باندے په سرونو دَګوتودَ وجے دَ غصے نه اُوایه مړه شئے په غصه خپله باندے یقیناً اللّٰه تعالیٰ پوهه دے په هغه خبروچه په سینوکښې دی (۱۱۹) که اورسی تاسوته خوشحالی خفه کوی دوی لره اوکه اورسی تاسوته تکلیف خوشحالیږی دوی په هغے سره اوکه صبر اوکړو تاسو او پرهیزګاری اوکړه ضرربه درنکړی تاسوته چلونه دَ هغوئ هیڅ ضرر، یقیناً اللّٰه تعالیٰ دَ دوئ عملونو لره راګیر ډونکے دے (په علم او په قدرت کښ)(۱۲۰) اوکوم وخت

[۱۱۸] په دے ایت کښ پنځم اصل ذکردے چه دَکافرانومشرکانوسره راز داری مه کوئے هغوی په خپل خاص امورو کښ مه شریکوئے اودَ دے دپاره لس وجے ئے بیان کړی دی ﴿بِطَانَةً﴾ راز دار دوست بلکه منشی دَ دفترهم داخل دے ﴿وَدُّوْا مَاعَنِتُّمْ﴾ غواړی (خوخوی) هغه څیزچه تاسوپه تکلیف کښ غورځوی ﴿قَدْ بَدَتِ الْبَغْضَآءُ﴾ یعنی بے اختیاره دَ دوی دَخولونه دَ بُغض خبرے رااوځی ﴿الْاٰيَاتِ﴾ مراد دَ دے نه دلیلونه اوعلامات دَ دشمنئ دَ هغوی دی۔

[۱۱۹] په دے کښ نوروجوه ذکرکوی دَپاره دَقطع تعلق ستاسو، محبت دا دے چه تاسودَ هغوی خیرخواهی کوئے اوهغوی ستاسوخیرخواهی نه کوی ﴿وَتُؤْمِنُوْنَ بِالْكِتٰبِ كُلِّهٖ﴾ دَ دے بل طرف پټ دے یعنی دوی دَ عناد دَوجے نه ستاسوپه کتاب (قرآن) باندے ایمان نه لری ﴿عَضُّوْا عَلَيْكُمُ الْاَنَامِلَ﴾ یعنی دَ غصے دَ وجے نه اول خوګوتے په خوله کښ کیدی بیاچه غصّه ډیره شی نوپه هغے باندے غاښونه کلك کړی نوپه ځان باندے چك اولګوی ﴿مُوْتُوْا بِغَيْظِكُمْ﴾ یعنی دَمؤمنانوعزت اوترقی به همیشه وی نو دَ منافقانوغصه کیدل به په هغے باندے همیشه دی۔

[۱۲۰] په دے ایت کښ نور وجوه ذکرکوی اواشاره ده چه په صبر اوتقویٰ سره دَ دُشمنانودَ مکرونونه امن حاصلیږی۔

غَدَوْتَ مِنْ اَهْلِكَ تُبَوِّئُ الْمُؤْمِنِيْنَ مَقَاعِدَ لِلْقِتَالِ ؕ وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿۱۲۱﴾ اِذْ هَمَّتْ طَّآئِفَتٰنِ
مِنْكُمْ اَنْ تَفْشَلَا ۙ وَاللّٰهُ وَلِيُّهُمَا ؕ وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۲۲﴾ وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ اللّٰهُ بِبَدْرٍ وَّ
اَنْتُمْ اَذِلَّةٌ ۚ فَاتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۱۲۳﴾ اِذْ تَقُوْلُ لِلْمُؤْمِنِيْنَ اَلَنْ يَّكْفِيَكُمْ اَنْ يُّمِدَّكُمْ رَبُّكُمْ

چه سحر وخت اووتلے ته دَکور والونه خودل دِمؤمنانوته مورچے دپاره دَ جنګ کولو اوالله تعالیٰ هرڅه آوری په هر څه پوهه دے (۱۲۱) کوم وخت چه قصد اوکړو دوه ډلو ستاسونه چه کمزوری اوکړی اوالله تعالیٰ همت ورکړونکے دَ دوی دے اوپه الله تعالیٰ باندے پس ځان دِ اوسپاری ایمان والا (۱۲۲)اویقیناً امدادکړے دے تاسوسره الله تعالیٰ په بدر کښی اوتاسو لږوئے پس اویریږئے دَ الله تعالیٰ نه دَ دے دپاره چے شکر اوکړئے (۱۲۳) کوم وخت چه اوویل تاایمان والوته آیاپوره نده تاسولره چه امداد به اوکړی تاسو سره رب ستاسو

[۱۲۱] دے ایت کښی واقعے دَ اُحدته اشاره ده مخکښ سره یوربط دا دے چه په دے واقعه کښی ستاسوپه صبرکښی نقصان راغلے وؤنوځکه تکلیف دراورسیدوبل داچه دَ مخکښی اصولونه په بعضوکښی کوتاهی شوے وه ځکه هزیمت اوشو﴿مِنْ اَهْلِكَ﴾ بعضے روایاتوکښی راغلی دی چه نبی ﷺ دَ ماسپخین مونځ نه روستو اُحد ته روان شو نو تطبیق دا دے چه مخکے دَماسپخین نه دَ کور دَ عائشه رضی الله عنها نه را اوتلواو روستودَ مونځ نه بیا روان شودَ لښکردَجنګ جرنیلی ئے کوله۔

[۱۲۲] بنوحارثه اوبنوسلمه (په انصاروکښی) ډلے دی دَ اُحدنه په لارکښی دَ واپس کیدلواراده ئے اوکړه لیکن بیا کلك شو دَ الله تعالیٰ په امداد باطنی سره۔ په دے کښی اشاره ده چه نبی ﷺ خپله ډیوټی پوره کړے ده لیکن نقصان دَ ملګرونه شویدے۔ همت صرف ارادے ته وئیلے شی چه بغیرد قصد نه وی اوداګناه نه دے۔ ﴿وَلِيُّهُمَا﴾ یوصحابی دَ دغه قبیلونه وئیلی دی چه مونږ دَ دے په نزول باندے خفه نه یوځکه دا لفظ دَ ﴿وَلِيُّهُمَا﴾ ډیردَعظمت لفظ دے۔

[۱۲۳] دَ دے ربط دا دے چه داجواب دَیو وهم دے چه الله تعالیٰ په اُحدکښی مؤمنانوته فتح ورنکړه معلومه شوه چه دَ دوی دین دَ الله تعالیٰ خوخ نه وؤ جواب اوشوچه دَ دین دَ وجے الله تعالیٰ دوی سره په بدرکښی نصرت کړے وؤ۔ دے ایت کښی دویمه واقعه ذکرکوی چه غزوه دَ بدرده چه پدیکښی صحابه ﷺ په اصولومخکنوباندے کلك وؤ اوپه صبراوتقویٰ باندے پاخه وؤنوکامیاب شول په امداد دَ الله تعالیٰ سره۔ واقعه دَ بدردَ اُحد دَو اقعے نه یوکال روانده شویوه هغه په میاشت دَ رمضان کښی وه او اُحدپه میاشت دَ شوال کښی وو او دَ بدر تفصیلی ذکرپه سورة انفال کښی دے﴿وَاَنْتُمْ اَذِلَّةٌ﴾ مراد داچه لګ وئے په شمارکښی درے سوه دیارلس کسان دارنګ وسله اوسورلئے هم درسره لږے وے ﴿فَاتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ﴾ یعنی عادت دَ شکر په تقویٰ سره حاصلیږی۔

بِثَلٰثَةِ اٰلٰفٍ مِّنَ الْمَلٰٓئِكَةِ مُنْزَلِيْنَ ﴿۱۲۴﴾ بَلٰٓى ۙ اِنْ تَصْبِرُوْا وَتَتَّقُوْا وَيَاْتُوْكُمْ مِّنْ فَوْرِهِمْ هٰذَا
يُمْدِدْكُمْ رَبُّكُمْ بِخَمْسَةِ اٰلٰفٍ مِّنَ الْمَلٰٓئِكَةِ مُسَوِّمِيْنَ ﴿۱۲۵﴾ وَمَا جَعَلَهُ اللّٰهُ اِلَّا بُشْرٰى لَكُمْ
وَلِتَطْمَئِنَّ قُلُوْبُكُمْ بِهٖ ؕ وَمَا النَّصْرُ اِلَّا مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ ﴿۱۲۶﴾ لِيَقْطَعَ طَرَفًا مِّنَ
الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَوْ يَكْبِتَهُمْ فَيَنْقَلِبُوْا خَآئِبِيْنَ ﴿۱۲۷﴾ لَيْسَ لَكَ مِنَ الْاَمْرِ شَيْءٌ اَوْ يَتُوْبَ عَلَيْهِمْ اَوْ

په درے زره ملائکو سره راکوز کړے شوی (۱۲٤) بلکه که صبر اوکړو تاسو او اویریدئ دَ اللّٰه تعالیٰ نه اوراشي دوی تاسوته په جوش خپل دغه دے نزدے امداد به اوکړی تاسو سره رب ستاسوپه پنځه زره دَ ملائکونه نخے به ئے نګولی وی دَ جنګ (۱۲۵) اونه دے ګرځولے اللّٰه تعالیٰ دا (رالیږل دَ ملائکو) مګر زیرے تاسو لره اودَ دے دپاره چه کلك شی زړونه ستاسوپه دے سره اونه ده غلبه مګرد طرف دَ اللّٰه تعالیٰ نه ده چه زور آور دے حکمتونو والا دے (۱۲٦) دے دپاره چه پریکړی ټکړه دَ کافرانونه یاذلیل کړی دوی لره پس واپس به اوګرځی ناأمیده (۱۲۷) نیشته تالره دَ اختیار نه څه شے تردے پورے چه مهربانی اوکړی اللّٰه تعالیٰ په دوی باندے (توفیق دَ ایمان) یا به

[۱۲٤] دَ امداد دپاره یوزر ملائك نازل شوی وؤ لکه سورة انفال (۹) کښ دی، بیا کافرانودباوونه کول چه مونږله نورے لښکرے را روانے دی، نواللّٰه تعالیٰ مؤمنانوته دَ نورامداد تسلی ورکړه۔ اول په درے زره ملائکو سره۔

[۱۲۵] په دے ایت کښ اشاره ده چه دَ صبراوتقویٰ په دوام سره امداد الٰهی کښ ترقی کیږی ﴿وَيَاْتُوْكُمْ مِّنْ فَوْرِهِمْ﴾ فورپه معنیٰ دَ زراوتادئے یاپه معنیٰ دَ غضب اوغصے سره دے اومراد ترینه ډیرقوت ښکاره کول دی۔ بیا دَ دے ملائکو په راتللوکښ درے اقوال دی اول داچه درے زره اوپنځه زره نه دی رالیږلے شوی ځکه چه ضرورت نه وؤ دویم داچه نازل شویدی دریم داچه درے زره نازل شویوؤ دپاره دَ تثبیت اوتسلئ دَمؤمنانواوپنځه زره ته هیڅ ضرورت نه وؤ راغلے نوهغه نه دی نازل کړے شوی۔

[۱۲٦] دا جواب دَ سوال دے، سوال داوؤ چه دا امداد اوغلبه شاید چه ملائکو کړے ده نو امداد دَ غیراللّٰه نه غوښتل جائز دی؟یا داچه اللّٰه تعالیٰ په امدادکولوکښ ملائکوته محتاج دے؟ جواب اوشوچه دا ظاهری اسباب صرف دَ ظاهری اوباطنی خوشحالئے دپاره دی، اوغلبه ورکول صرف دَ اللّٰه تعالیٰ دَطرف نه ده، دے ایت کښ﴿النَّصْرُ﴾ معنیٰ غلبه ده اودا خاص ده په اللّٰه تعالیٰ پورے اوکوموآیاتونو کښ چه دَ انسانانو نصرت دَیوبل سره ذکردے نومراد دَهغے صرف ملګرتیا کول دی ﴿بُشْرٰى﴾ هغه خوشحالی چه په ظاهر بدن باندے دَ هغے اثر معلومیږی او اطمینان صرف خوشحالی دَ زړه ده۔

[۱۲۷]﴿لِيَقْطَعَ﴾ دا متعلق دے دَ نصرکم سره، ټکړه پریکولونه مراد هلاکول دَ یوډلے دی ﴿اَوْيَكْبِتَهُمْ﴾ نه مرادشکست ورکول دی ذلیل کول دی او لفظ اَوْدلته دَتقسیم دَپاره دے یعنی اویاکسان ئے اووژل اوباقی ئے ذلیل شوی واپس اوګرځول۔

يُعَذِّبَهُمْ فَإِنَّهُمْ ظٰلِمُوْنَ ﴿۱۲۹﴾ وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ط يَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيُعَذِّبُ
مَنْ يَّشَآءُ ط وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۳۰﴾ يٰٓأَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَأْكُلُوا الرِّبٰوٓا أَضْعَافًا مُّضٰعَفَةً ص وَاتَّقُوا
اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿۱۳۱﴾ وَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِيْٓ أُعِدَّتْ لِلْكٰفِرِيْنَ ﴿۱۳۲﴾ وَأَطِيْعُوا اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ
لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴿۱۳۳﴾ وَسَارِعُوْٓا إِلٰى مَغْفِرَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمٰوٰتُ وَالْأَرْضُ لا

عذاب ورکړی دوی لره پس یقیناً دوی ظالمان دی(۱۲۸) اوخاص دَ اللّٰه تعالیٰ په اختیارکښ دی هغه څه چه په آسمانونو کښ دی اوهغه څه چه په زمکه کښ دی بخنه کوی چاته چه اوغواړی اوعذاب ورکوی چاته چه اوغواړی۔ اواللّٰه تعالیٰ بخنه کڅونکے رحم کڅونکے دے (۱۲۹) اے ایمان والو: مه خورئے سود دوچند او اویریږئے دَ اللّٰه تعالیٰ نه دَ دے دپاره چه کامیاب شئے (۱۳۰) اوځان بچ کړئے (دَ حرام نه بچ کیدلوسره) دَ هغه اورنه چه تیارکړے شوے دے دپاره دَ کافرانو (۱۳۱) اوتابع داری کوئے دَ اللّٰه تعالیٰ اودَ رسول دَ دے دپاره چه په تاسو رحم اوکړے شی (۱۳۲) اوجلتی کوئے بخنے ته دَ طرفه دَ رب ستاسونه اوجنت ته چه فراخی دَ هغے آسمانونه او زمکه ده

[۱۲۸] داجواب دے دَ بل سوال، هغه دا دے چه شاید داغلبه دَ پیغمبرﷺ په اختیارکښ ده، جواب اوشو او مفسرینولیکلی دی چه نبیﷺ دَ بعض کافرانونومونه واخستل اوبد دُعا ئے اوکړله نوپه دے (لیس لك من الامرشیء) سره ئے منع کړولیکن دَ دے واقعے نه روستو بیاهم نبیﷺ قنوت نازله لوستلے دے نومطلقاً منسوخ نه دے۔ لیس لك، دلالت کوی چه نبیﷺ له اختیارکُلی نه دے ورکړے شوے۔

[۱۲۹] په دے کښ مسئله دَ توحید ده چه واکدار اختیارمند صرف اللّٰه اوګنړئے۔ او دا علت دَپاره دَ مخکے درے آیاتونودے چه امداد اوتذلیل هرڅه دَ اللّٰه تعالیٰ په اختیارکښ دی چاله توفیق دَ ایمان ورکړی نو مغفرت ورته اوکړی اوچاله توفیق نه ورکوی نوعذاب ورکوی۔

[۱۳۰] دَ دے ځائے نه ځلورمه حصه ده تیرشوی اياتونوکښ دَ اللّٰه تعالیٰ دَ مدد اصول اوبیا مثالونه بیان شول۔اوس دَ هغه کارونونه منع فرمائی چه په هغے سره امداد الٰهی بندیږی، اوتقریباً اُولس اخلاق ذکرکوی، دپاره دَ رعیت اوامر نواهی او اخبار اودرے صفات دَ نبیﷺ ذکرکوی چه هغه صفات دَ امیردی، اودَ اُحد دَ شکست دپاره اسباب اوحکمتونه ذکرکوی اومنافقانوته زورنے ورکوی۔ په دے حصه کښ درے بابونه دی، دا اول باب دے تر (۱۸۰) پورے۔ دَ دے ایت نه مراد دا دے چه په سود سره مدد دَ اللّٰه تعالیٰ بندیږی۔ په دے ایت کښ دوه اخلاق ذکرشوی دی۔منع دَ ربوا نه، اوامردَ تقویٰ ﴿أَضْعَافًا مُّضٰعَفَةً﴾ دا قید احترازی نه دے ځکه چه سود مفرد اومرکب دواړه حرام دی لیکن دا قید عادتی دے چه دَربوا اغستونکے په یوچند باندے اکتفاء نه کوی۔

[۱۳۱] په دے کښ ویره اُخروی ده، اواشاره ده چه ربوٰا دَ عاداتودَ کافرانونه ده ﴿وَاتَّقُوا النَّارَ﴾ مراد دَ تقویٰ نه ویره کول اوځان بچ کول دی۔ په اوله معنیٰ دَ النار نه مراد اور دَ جهنم دے اوپه دویمه معنیٰ سره النار نه مراد اسباب دَ ناردی۔

[۱۳۲] دے ایت کښ دریم خُلق ذکردے دپاره دَ بچ کیدلودَ هزیمت نه ﴿تُرْحَمُوْنَ﴾ رحمت دَ اللّٰه

أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِيْنَ ﴿۱۳۳﴾ الَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ فِي السَّرَّآءِ وَالضَّرَّآءِ وَالْكٰظِمِيْنَ الْغَيْظَ وَالْعَافِيْنَ عَنِ
النَّاسِ ؕ وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۱۳۴﴾ وَالَّذِيْنَ اِذَا فَعَلُوْا فَاحِشَةً اَوْ ظَلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ ذَكَرُوا
اللّٰهَ فَاسْتَغْفَرُوْا لِذُنُوْبِهِمْ ۫ وَمَنْ يَّغْفِرُ الذُّنُوْبَ اِلَّا اللّٰهُ ۟ وَلَمْ يُصِرُّوْا عَلٰى مَا فَعَلُوْا
وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۳۵﴾ اُولٰٓئِكَ جَزَآؤُهُمْ مَّغْفِرَةٌ مِّنْ رَّبِّهِمْ وَجَنّٰتٌ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ

تیار کړے شوے دے دپاره دَ بچ کیدونکو دَ شرك نه (۱۳۳) هغه کسان چه خرچ کوی (برابرد حکم دَ اللّٰه تعالیٰ) په خوشحالئی کښ اوپه تکلیف کښ اوتیرؤونکی دَ غصے دی اومعافی کؤونکی دی دَ خلقونه اواللّٰه تعالیٰ مینه کوی دَ احسان کؤونکو سره (۱۳٤)اودوی هغه کسان دی چه کله اوکړی بنکاره گناه اویا ظلم اوکړی په ځان باندے یادکړی اللّٰه تعالیٰ پس بخنه اوغواړی دپاره دَگناهونو خپلو اوخوك دے، چه اوبخی ټول گناهونه سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه اونه کلك کیږی په هغه گناه چه اوکړی اودوی پوهیږی (۱۳۵) دغه کسان بدله دَ دوی بخنه ده دَ طرف دَ رب دَ دوی نه اوباغونه دی چه بهیږی لاندے دَ هغے نه ولے

تعالیٰ په دُنیا اوآخرت کښ حاصلیږی په اطاعت اللّٰه والرسول سره۔

[۱۳۳] دا مغفرت اوجنت په ایمان اوپه جهاد اوانفاق فی سبیل اللّٰه سره حاصلیږی او وُسعت دَ جنت په طریقه دَ مثال سره دے چه دَ انسانانوپه نظرکښ دَ اسمانونواوځمکے نه زیات وسعت نورنیشته ﴿اِلٰى مَغْفِرَةٍ﴾ مراد دَ دے نه اسباب دَ مغفرت دی چه هغه اوامراونواهی دی چه په دے حصه کښ ذکرکیږی ﴿عَرْضُهَا﴾ عرض په معنیٰ دَ نفس وسعت دے یا په معنیٰ دَ پلن والی سره دے هرکله چه دَ پلن والی حال دا دے نودَ اوگدوالی خو هیڅ انداز نه معلومیږی۔ اوداسے آیت په سورة حدید (۲۱) کښ هم شته۔

[۱۳٤] دا دَ متقیانواول قسم دے اواعلیٰ دے اواشاره ده چه دَ دے صفاتوپه حصول سره دَهزیمت نه بچاؤحاصلیږی۔ دَ اول صفت مطلب بل چاته فائده ورکول دی اودَ دویم صفت مطلب خلق دَ شرنه محفوظ ساتل دی اوپه هغے کښ مرتبے په ترتیب سره دی، (۱) غصه تیرول (۲) معافی کول(۳) احسان کول۔ اوپه دے ایت کښ درے اخلاق ذکرشوی دی دپاره دَبچ کیدلودَ هزیمت نه ﴿السَّرَّآءِ وَالضَّرَّآءِ﴾ مراد دَ دے نه حال دَ وسعت دَ رزق اوحال دَفقیرئے دے اوپه دواړه حالاتوکښ دَاستطاعت مناسب خرچ کول مراد دی اوخرچ په طریقه شرعی سره ضروری دے دا مطلب نه دے چه په خوشحالئے کښ اسراف کوی اوپه غمونوکښ بدعات کوی دا خو تحریف دے۔

[۱۳۵] دا دویم قسم متقیان دی اوادنیٰ قسم دے﴿يُصِرُّوْا﴾ اصرارپه گناه باندے کلك کیدلوته وائی چه توبه نه اوباسی بلکه ثواب ئے گنړی او هغے ته بدعت وائی اوپه دے ایت کښ دوه اخلاق ذکرشوی دی۔ ﴿فَاحِشَةً﴾ هغه گناه چه عقل اوعرف کښ هم گناه گنړلے کیږی سرهٔ دَ شرع نه ﴿اَوْ ظَلَمُوْٓا﴾ عام گناهونه صغیره اوکبیره مراد دی۔ یا فاحشه گناهونه په حقوق العباد کښ دی اوظلمواگناهونه په حقوق اللّٰه کښ مراد دی ﴿وَمَنْ يَّغْفِرُ الذُّنُوْبَ اِلَّا اللّٰهُ﴾ په دے کښ رد دے په عقیده دَ نصاریٰ باندے چه هغوی مغفرت په اختیاردَعیسیٰ علیه السلام اودَ هغه دَ نائبانوپه لاس کښ گنړی۔

خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ وَنِعْمَ اَجْرُ الْعٰمِلِيْنَ ﴿۱۳۶﴾ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِكُمْ سُنَنٌ ۙ فَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ فَانْظُرُوْا
كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِيْنَ ﴿۱۳۷﴾ هٰذَا بَيَانٌ لِّلنَّاسِ وَهُدًى وَّمَوْعِظَةٌ لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿۱۳۸﴾ وَلَا تَهِنُوْا
وَلَا تَحْزَنُوْا وَاَنْتُمُ الْاَعْلَوْنَ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۱۳۹﴾ اِنْ يَّمْسَسْكُمْ قَرْحٌ فَقَدْ مَسَّ الْقَوْمَ قَرْحٌ مِّثْلُهٗ ؕ
وَتِلْكَ الْاَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيْنَ النَّاسِ ۚ وَلِيَعْلَمَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَيَتَّخِذَ مِنْكُمْ شُهَدَآءَ ؕ وَاللّٰهُ

همیشه به وی دوی په هغے کښ اوخه دے ثواب دَ داسے عمل کؤونکو (۱۳۶) یقیناً تیرشوی دی ستاسونه مخکښے واقعات پس اوګرځئے په زمکه کښ پس اوګورئے (په عبرت سره) څنګه ؤوانجام دَ دروغژن کؤونکو (۱۳۷) دا (قرآن) وضاحت دے دپاره دَ خلقو اولارخودونکے دے (په دلیلونوسره) اونصیحت دے دپاره دَ فائدے دَ متقیانو (۱۳۸) اوسستی مه کوئے (دَ جهادنه) اومه بے حوصلے کیږئے (په تکالیفو) اوتاسواوچت (شان والائے) که ئے تاسو پوره ایمان والا(۱۳۹) که رسیدلے دے تاسوته زخم (نو صبرکوئے) پس یقیناً رسیدلے دے قوم کافرانوته زخم دَ دے پشان او دا ورځے مونږ اړ ؤو را اړ ؤو دا په مینځ دَ خلقو کښ (دپاره دَ حکمتونو) اودَ دے دپاره چه ښکاره کړی اللّٰه تعالیٰ هغه کسان چه ایمان ئے راوړے اوجوړ کړی ستاسونه شهیدان او اللّٰه

[۱۳۶] دا بشارت دَ اخرت دے دواړه قسمونوته ﴿الْعَامِلِيْنَ﴾ هغه عملونه مراد دی چه دَ متقیانو په صفتونو کښ ذکرشویدی، اومراد دَ عمل نه مشقت کول دَصالح عمل دی۔

[۱۳۷] دا دَ دُنیوی عذاب ویره ده اوحال دَ مکذبینودے روستودَ حال دَ متقینونه ﴿سُنَنٌ﴾ جمع دَ سنة ده طریقه دَ ښه وی او که بده وی دلته مراد دَ سنن نه اُمتونه دی یا واقعات دَ عذابونودَمنکرینودی۔

[۱۳۸] دا ترغیب دے قرآن پاك ته یعنی که زمکه کښ سیردَ عبرت دپاره نشئ کولے نودَ قرآن نه خو نصیحت واخلئے۔ اودَ هغے درے اوصاف ذکردی اول بیان او وضاحت دَاحکام الٰهیه که اوامردی اوکه نواهی دی ﴿وَهُدًى﴾ اشاره ده دلیلونودَ احکاموته ﴿وَمَوْعِظَةٌ﴾ مراد دَ دے نه ترغیبات تخویفات او بشارتو نه وغیره دی۔

[۱۳۹] روستودَ ذکردَصدق دَقرآن نه دَ هغے دَ اشاعت دپاره تیزی ذکرکوی ﴿وَلَاتَهِنُوْا﴾ وهن سستی کول دی په سبب دَ یرے کولودَمرګ اودَ محبت دَ دُنیانه ﴿وَلَاتَحْزَنُوْا﴾ حزن افسوسونه کول په فوت شوی مال او اولاد اوملګروپسے اوحزن خوغیراختیاری دے لیکن مراد دَ حزن نه اظهاردَ حزن دے په داسے طریقے سره چه مقصد پاتے شی ﴿وَاَنْتُمُ الْاَعْلَوْنَ﴾ دا عام دے کله غلبه دَ دُنیا اوکله غلبه په حجت اودلیل اوکله اوچت والے دَ مرتبے په نیزدَ اللّٰه تعالیٰ ته ﴿اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ﴾ دا شرط دَمخکے ولاتهنوانه تر الاعلون، پورے متعلق دے۔ په دے آیت کښ دوه اخلاق په نهی سره ذکرکړل۔

لَا يُحِبُّ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۴۰﴾ وَلِيُمَحِّصَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَيَمْحَقَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۱۴۱﴾ اَمْ حَسِبْتُمْ اَنْ تَدْخُلُوا
الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَعْلَمِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ جٰهَدُوْا مِنْكُمْ وَيَعْلَمَ الصّٰبِرِيْنَ ﴿۱۴۲﴾ وَلَقَدْ كُنْتُمْ تَمَنَّوْنَ الْمَوْتَ
مِنْ قَبْلِ اَنْ تَلْقَوْهُ ۖ فَقَدْ رَاَيْتُمُوْهُ وَاَنْتُمْ تَنْظُرُوْنَ ﴿۱۴۳﴾ ع وَمَا مُحَمَّدٌ اِلَّا رَسُوْلٌ ۚ قَدْ خَلَتْ
مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ ۭ اَفَاۗىِٕنْ مَّاتَ اَوْ قُتِلَ انْقَلَبْتُمْ عَلٰٓى اَعْقَابِكُمْ ۭ وَمَنْ يَّنْقَلِبْ عَلٰي عَقِبَيْهِ فَلَنْ
يَّضُرَّ اللّٰهَ شَيْـــًٔا ۭ وَسَيَجْزِي اللّٰهُ الشّٰكِرِيْنَ ﴿۱۴۴﴾ وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ اَنْ تَمُوْتَ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ

نه خوښوی ظالمان(۱۴۰) او دے دپاره چه پاك کړی الله تعالی ایمان والا اوختم کړی کافران(۱۴۱) ایا ګمان کوئے تاسوچه داخل به شئے جنت ته اوتر اوسه پورے نه دی ښکاره کړی الله تعالی مجاهدین ستاسونه اونه دی ښکاره کړی صبرناکو لره(۱۴۲) اویقیناً ارمان کؤو تاسو دَ شهادت مخکښے دَ مخامخ کیدلو دَ هغے نه پس یقیناً اولیدو تاسوهغه اوتاسوکتل (۱۴۳) اونه دے محمد(ﷺ) مګر رسول دے یقیناً تیرشوی دی مخکښے دَ هغه نه رسولان آیا پس که دے مړشو یا اووژلے شو اوړے به تاسوپه پوندو خپلو باندے اوځوك چه واوړیدلو په پوندو خپلو باندے پس هیڅوے ضرر نشی ورکولے الله تعالی ته دَ هیڅ شیز او زر دے چه بدله به ورکړی الله تعالی ثابت قدموته(۱۴۴) اونه ده ممکن یو نفس لره چه مړشی بغیردَ اجازت دَ الله تعالی نه

[۱۴۰] دَ دے آیت نه تر(۱۴۳) پورے اسباب اوحکمتونه دَهزیمت اُحد ذکرکیږی دپاره دَتسلئ دَمؤمنانواودپاره دَ جواب دَ اعتراض دَ منافقانو، اعتراض دا وؤ که صحابه په حقه وے نو ولے ئے شکست په اُحد کښ اومونډ لونوپه دے آیاتونوکښ شپږ وجے دَ هغے ذکرکړی دی ﴿فَقَدْ مَسَّ الْقَوْمَ قَرْحٌ﴾ مراد دَ قوم نه مشرکین مکه دی چه په بدرکښ هغوی ته زخمونه رسیدلی وؤ ﴿مِثْلُهٗ﴾ دلته مثلیت صرف په وژلواو زخمی کیدلوکښ دے اوپه (۱۶۵) کښ مثلیها دَ عدد په اعتبارسره وئیلے دے ﴿وَتِلْكَ الْاَيَّامُ نُدَاوِلُهَا﴾ یعنی کله روزدَ تکلیف اوغم وی نو کله روزدَ خوشحالئے وی نوکله غلبه وی اوکله هزیمت وی ﴿وَلِيَعْلَمَ اللّٰهُ﴾ دَ دے نه مخکے معطوف علیه پټ دے (دپاره دَ ډیروحکمتونو) علم نه مراد علم دَ اظهار او تمیز دے۔ ﴿شُهَدَآءَ﴾ شهیدان جوړول مراد دی۔

[۱۴۱] په دے آیت کښ نور حکمتونه ذکرکوی ﴿لِيُمَحِّصَ﴾ تمحیص پاکول دَخیری نه اوخالص کول دَ هغوی۔

[۱۴۲] په دے کښ بل حکمت ذکرکوی ﴿اَمْ حَسِبْتُمْ﴾ مراد دَ دخول دَ جنت نه دخول اوّلی دے یعنی ستاسوګمان وؤ چه بغیردَ جهاد اوصبرنه دخول اوّلی دَ جنت حاصلیدلے شی دا ګمان غلط دے۔

[۱۴۳] په دے کښ ذکردَبل حکمت دے یعنی تاسومرګ دَ شهادت دَ بدر دَ غزوه نه روستوغوختلے وؤ نواللّٰه تعالی تاسوله په اُحدکښ دا تمناپوره کړه ﴿تَمَنَّوْنَ الْمَوْتَ﴾ موت نه مراد شهادت دے ځکه تمنادَ صرف مرګ په حدیث صحیح کښ منع کړے شویده او تمنیٰ دَ شهادت کښ اجردے۔

[۱۴۴] په دے آیت کښ تنبیه ده مؤمنانوته چه دَ امیرپه اعتماد باندے کارمه کوئے بلکه توکل په الله

كِتٰبًا مُّؤَجَّلًا ؕ وَمَنْ يُّرِدْ ثَوَابَ الدُّنْيَا نُؤْتِهٖ مِنْهَا ۚ وَمَنْ يُّرِدْ ثَوَابَ الْاٰخِرَةِ نُؤْتِهٖ مِنْهَا ؕ وَسَنَجْزِي الشّٰكِرِيْنَ ﴿۱۴۵﴾ وَكَاَيِّنْ مِّنْ نَّبِيٍّ قٰتَلَ ۙ مَعَهٗ رِبِّيُّوْنَ كَثِيْرٌ ۚ فَمَا وَهَنُوْا لِمَآ اَصَابَهُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَمَا ضَعُفُوْا وَمَا اسْتَكَانُوْا ؕ وَاللّٰهُ يُحِبُّ الصّٰبِرِيْنَ ﴿۱۴۶﴾ وَمَا كَانَ قَوْلَهُمْ اِلَّآ اَنْ قَالُوْا رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا ذُنُوْبَنَا وَاِسْرَافَنَا فِيْٓ اَمْرِنَا وَثَبِّتْ اَقْدَامَنَا وَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ

لیکل دی مقرر اوخوك چه غواړی (په عمل خپل) بدله د دُنیا مونږ ورکړو دهٔ تهٔ د هغے نه، اوخوك چه غواړی بدله د آخرت (په عمل خپل سره) وربه کو دهٔ ته د هغے نه اوخامخا بدله به ورکړو شکرګذاروته (چه د آخرت په نیت عمل کوی) (۱۴۵) اوډیر پیغمبرانوجنګونه کړی دی د دوی په ملګرتیاکښ خدائی ډلے ډیرے وے پس سست نشو (د جهادکولونه) د وجے د تکلیفونونه چه اورسیدل دویته په لارد اللّٰه تعالیٰ کښ اونه کمزوری شوی ؤوپه مقابله د دُشمن کښ اونه ؤوتابع شوی دُشمن ته (۱۴۶) اواللّٰه تعالیٰ مینه کوی د صبرنا کوسره۔ اونه وه وینا د دوی (دُعا د دوی) مګر داچه ویل دوی اے ربه ځمونږ اوبخے مونږ ته ګناهونه ځمونږ اوزیاتے ځمونږ په کار د دین ځمونږ کښ اوکلك کړے قدمونه ځمونږ اوغلبه راکړے مونږ له په قوم

تعالیٰ باندے کوئے ځکه امیراکرچه نبی وی هغه باندے مرګ راځی او په اللّٰه تعالیٰ باندے هیڅرے مرګ او فنانه راځی۔ اوپدے ایت کښ تعلیم د بل خائسته خوی دے دَپاره دَدفع دَهزیمت۔ او دا آیت ابوبکرﷺ د نبیﷺ د مرګ د اثبات دپاره لوستلے وؤ(حدیث دَبخاری) ﴿وَمَامُحَمَّدٌ اِلَّارَسُوْلٌ﴾ دا قصراضافی دے یعنی محمدﷺ خدائے نه دے چه دَمرګ نه بچ وی بلکه لوئے صفت ئے رسالت دے اورسالت منافی نه دے دَمرګ سره ﴿قَدْخَلَتْ﴾ مراد د دے نه تیریدل دَوخت د هغوی دی که ځوك وفات شوے وی لکه اکثر پیغمبران یازمانه ئے تیره شوے وی اومړنه وی لکه عیسیٰ علیه السلام چه په احادیث متواتره سره د هغه ژوند تر قریب دَقیامت پورے ثابت دے ﴿الشّٰكِرِيْنَ﴾ دلته مراد د دے نه هغه ځوك دی چه په وخت د وفات دَنبیﷺ کښ ثابت قدم وؤ لکه ابوبکرﷺ۔

[۱۴۵] په دے ایت کښ تنبیه ده چه مرګ په نیته باندے راځی نودَ جهادنه د مرګ په ویره سره پاتے کیدل جائزنه دی اوجهاد اوهرعمل د خیرد آخرت په نیّت سره کوئے اودا تعلیم د بل خُلقِ حسن دے ﴿وَمَنْ يُّرِدْ﴾ چاچه اراده اوکړه په عمل د خیرسره بدله د دُنیا ﴿الشّٰكِرِيْنَ﴾ دلته هغه ځوك مراد دے چه عمل د خیر په نیت د آخرت سره کوی۔

[۱۴۶] په دے کښ تنبیه ده چه قتال د ډیرانبیاء علیهم السلام سنت دے سرهٔ دَصالحینوملګرو د هغوی نه اوپه هغوی کښ دا درے صفات سلبیه وؤ۔وهن اوضعف اواستکانت نه ځان ساتل اودا تعریف د صبردے۔ نوپه دے کښ تعلیم دے مجاهدینوته د دے درے اخلاق حسنه سلبیه(وهن) پریخودل د جهاد د وجے د تکالیفواو(ضعف) کمزوری د قوت اوسستی کول او (استکانت) دُشمن ته تابع کیدل دَپاره د اسانتیا۔

الْكٰفِرِيْنَ ﴿۱۴۷﴾ فَاٰتٰىهُمُ اللّٰهُ ثَوَابَ الدُّنْيَا وَحُسْنَ ثَوَابِ الْاٰخِرَةِ ؕ وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۱۴۸﴾ ع ۱۵
يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِنْ تُطِيْعُوا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا يَرُدُّوْكُمْ عَلٰۤى اَعْقَابِكُمْ فَتَنْقَلِبُوْا خٰسِرِيْنَ ﴿۱۴۹﴾
بَلِ اللّٰهُ مَوْلٰىكُمْ ۚ وَهُوَ خَيْرُ النّٰصِرِيْنَ ﴿۱۵۰﴾ سَنُلْقِيْ فِيْ قُلُوْبِ الَّذِيْنَ كَفَرُوا الرُّعْبَ بِمَاۤ اَشْرَكُوْا بِاللّٰهِ
مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهٖ سُلْطٰنًا ۚ وَمَاْوٰىهُمُ النَّارُ ؕ وَبِئْسَ مَثْوَى الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۵۱﴾ وَلَقَدْ صَدَقَكُمُ اللّٰهُ

کافرانو باندے(۱۴۷) پس ورکړه دویته اللّٰه تعالیٰ بدله د دُنیا اوخائسته بدله د آخرت اواللّٰه تعالیٰ مینه کوی د خائسته عمل کؤونکوسره (۱۴۸) اے ایمان والو: که تاسو خبره اومنئے د کافرانو واپس به اوګرځوی تاسو (د ایمان نه) په پوندو ستاسو باندے پس شئے به زیان والا (۱۴۹) بلکه اللّٰه تعالیٰ مولا ستاسو دے اوهغه غوره د امداد یانونه دے(۱۵۰) خامخا اچؤو مونږ په زړونو د کافرانو کښ هیبت په سبب د دے چه دوی برخے والا جوړ کړے دے د اللّٰه تعالیٰ سره هغه څوك چه ندے رالیګلے اللّٰه تعالیٰ په شرکت د هغوی باندے هیڅ دلیل اوځائے د ورتلود دوی اور دے اوناکاره ځائے د اوسیدلود مشرکانودے (۱۵۱) اویقیناً پوره کړے دے تاسو سره اللّٰه تعالیٰ

[۱۴۷] په دے کښ تعلیم دَبل خُلق حسن دے چه دُعاده په وخت د جهاد کښ ﴿قَوْلَهُمْ﴾ په معنیٰ د دُعا د دے اوپه دے حصر کښ اشاره ده چه دُعا په هغه الفاظواو کیفیت سره ضروری ده کوم چه منقول دی په شرع کښ دَهغے نه تعدی کول بدعت دے ﴿وَاِسْرَافَنَا فِيْۤ اَمْرِنَا﴾ اشاره ده مخالفت د امر دَرسول ته لکه چه په اُحد کښ د بعض صحابو نه داسے صدور شوے وؤ۔

[۱۴۸] ﴿مُحْسِنِيْنَ﴾ هغه خلق دی چه په عقیده د توحید او اتباع د سنت سره عمل کوی او هغے ته خائسته عمل وئیلے شی ﴿ثَوَابَ الدُّنْيَا﴾ فتح اوغلبه اوغنیمتونه د جهاد په وجے سره ۔

[۱۴۹] په دے کښ تعلیم د بل خلق حسن دے یعنی ځان سائل د اطاعت د کافرانونه ځکه داسبب د مرتد کیدلو دے۔

[۱۵۰] په دے کښ تسلی ده په ولایت او نصرت د اللّٰه تعالیٰ په وخت د کلك والی په دین اسلام باندے۔

[۱۵۱] دا مثال د ولایت اونصرت الٰهی دے چه کافران اګرچه پیروی اوطاقتور وی لیکن د هغوی په زړونو کښ رعب واچولے شی لکه د غزوه اُحد د فراغ نه روستو کافرانو د دوباره حملے اراده کړے وه لیکن د رعب د وجے نه روستو شول او سبب د دے شرك دے ﴿مَالَمْ يُنَزِّلْ بِهٖ سُلْطَانًا﴾ په دے کښ اشاره ده چه د اثبات د شریك د اللّٰه تعالیٰ دپاره دلیل صحیح منزل پکار دے اوپه شرك باندے داسے دلیل نیشته کوم چه جاهلان ذکرکوی نوهغه خوبونه، خپل خیالات، د مشرانوخبرے اوقصے دی په هغے سره دین نه ثابتیږی۔ مأوٰی او مَثوٰی کښ فرق دا دے چه ماوٰی ځائے دَورتللوته وئیلے شی که او سیدل پکښ وی او که نه وی اومَثوٰی ځائے د قیام او دَاوسیدلوته وئیلے شی۔

وَعْدَهٗۤ اِذْ تَحُسُّوْنَهُمْ بِاِذْنِهٖ ۚ حَتّٰۤى اِذَا فَشِلْتُمْ وَتَنَازَعْتُمْ فِى الْاَمْرِ وَعَصَيْتُمْ مِّنْۢ بَعْدِ مَاۤ
اَرٰىكُمْ مَّا تُحِبُّوْنَ ؕ مِنْكُمْ مَّنْ يُّرِيْدُ الدُّنْيَا وَمِنْكُمْ مَّنْ يُّرِيْدُ الْاٰخِرَةَ ۚ ثُمَّ صَرَفَكُمْ عَنْهُمْ
لِيَبْتَلِيَكُمْ ۚ وَلَقَدْ عَفَا عَنْكُمْ ؕ وَاللّٰهُ ذُوْ فَضْلٍ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۵۲﴾ اِذْ تُصْعِدُوْنَ وَلَا تَلْوٗنَ عَلٰۤى
اَحَدٍ وَّالرَّسُوْلُ يَدْعُوْكُمْ فِىْۤ اُخْرٰىكُمْ فَاَثَابَكُمْ غَمًّا بِغَمٍّ لِّكَيْلَا تَحْزَنُوْا عَلٰى مَا فَاتَكُمْ وَلَا مَاۤ
اَصَابَكُمْ ؕ وَاللّٰهُ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۵۳﴾ ثُمَّ اَنْزَلَ عَلَيْكُمْ مِّنْۢ بَعْدِ الْغَمِّ اَمَنَةً نُّعَاسًا يَّغْشٰى

لوظ خپل کوم وخت چه وژل تاسو دوی لره په حکم د الله تعالی ترهغے پورے چه کله کمزوری شوئے تاسو اوجګړه اوکړه تاسو په حکم د پیغمبرکښ اوخلاف هم اوکړو د حکم د نبی(ﷺ) نه روستو د هغے نه چه اوخودو الله تعالی تاسوته هغه شے چه تاسو خوخوو (غنیمت اومدد) بعضے ستاسونه هغه ؤو چه طلب ئے کړو د دُنیا اوبعضے ستاسونه هغه ؤوچه طلب ئے کړو د آخرت، بیا اوګرځول الله تعالی تاسولره د هغوی نه دے دپاره چه ازمیښت اوکړی ستاسو اویقیناً معافے اوکړو الله تعالی ستاسونه او الله تعالی فضل والا دے په مؤمنانوباندے(۱۵۲) کوم وخت چه روان وئے تاسو مدینے طرف ته اوشاته نه کتل تاسو هیڅ چاته او رسول آواز کړو تاسوته روستو ستاسونه پس بدل ئے درکړو تاسوته غم په بل غم دپاره د دے چه نشئ غمژن په هغه څه پسے چه فوت شو ستاسونه اونه په هغه څه چه اورسیدو تاسوته او الله تعالی خبردار دے په هغه چه کوئے تاسو(۱۵۳) بیا راولیګو الله تعالی پتاسوباندے روستوډ خفګان نه امن پرکالی پتوؤ هغے

[۱۵۲] دا تحقیقی جواب دے دَسوال د منافقانوچه په اُحدکښ ولے الله تعالی مدد اونکړو اوشکست اوشوحاصل جواب دا دے چه الله تعالی په اوله دفعه کښ په اُحدکښ مددکړے وؤمؤمنان غالب شویوؤغنیمتونه ئے راټولول لیکن د دے نقصاناتوپه وجے سره هزیمت راغے۔ فشل، تنازع، عصیان۔ ﴿مَاتُحِبُّوْنَ﴾ مراد د دے نه فتح اوغنیمت دے اودا محبوب وؤ دَصحابه کرامولکه په سورة صف۱۳ کښ دی دُنیا مرادنه ده بلکه د دُنیا سره ئے صرف اراده ذکرکړیده محبت ئے نه دے ذکرکړے ﴿وَلَقَدْعَفَا﴾ د صحابوډ دغه غلطئے معافی په نص قطعی سره ثابت ده نوخوك چه بیاهم صحابوپسے طعن کوی نوهغه ملعون دے۔

[۱۵۳] دا تفصیل د صرفکم دے ﴿تُصْعِدُوْنَ﴾ د اصعاد نه دے اواصعادپه همواره زمکه باندے تلل اوصعود وئیلے کیږی بره ختلوته ﴿فَاَثَابَكُمْ غَماًّ بِغَمٍّ﴾ با په معنیٰ دَمع ده یوغم دَبل غم سره یعنی ډیرغمونه یا با سببیه ده غم په سبب د خفه کولو ستاسو نبی ﷺ لره (په مخالفت د امرډ هغه سره) ﴿لِكَيْلَا تَحْزَنُوْا﴾ په دے کښ ډیراقوال دی اول دا متعلق دے په لقد عفاعنکم پورے دویم دا متعلق دے اثابکم پورے اوپه دواړه قولونوسره لا زائد دے دریم داچه متعلق دے په اثابکم پورے لیکن بغم نه مراد په سبب د خفه کولو ستاسو نبی ﷺ لره اوغَمًّا نه مراد آورول دی دَمرګ دَنبی ﷺ لکیلا تحزنوا یعنی په آوریدلودَ وفات دَنبی ﷺ د نورو مصیبتونو غمونه زائله شول۔

طَآىِٕفَةٌ مِّنْكُمْ ۙ وَطَآىِٕفَةٌ قَدْ اَهَمَّتْهُمْ اَنْفُسُهُمْ يَظُنُّوْنَ بِاللّٰهِ غَيْرَ الْحَقِّ ظَنَّ الْجَاهِلِيَّةِ ؕ يَقُوْلُوْنَ
هَلْ لَّنَا مِنَ الْاَمْرِ مِنْ شَيْءٍ ؕ قُلْ اِنَّ الْاَمْرَ كُلَّهٗ لِلّٰهِ ؕ يُخْفُوْنَ فِيْۤ اَنْفُسِهِمْ مَّا لَا يُبْدُوْنَ
لَكَ ؕ يَقُوْلُوْنَ لَوْ كَانَ لَنَا مِنَ الْاَمْرِ شَيْءٌ مَّا قُتِلْنَا هٰهُنَا ؕ قُلْ لَّوْ كُنْتُمْ فِيْ بُيُوْتِكُمْ لَبَرَزَ
الَّذِيْنَ كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقَتْلُ اِلٰى مَضَاجِعِهِمْ ۚ وَلِيَبْتَلِيَ اللّٰهُ مَا فِيْ صُدُوْرِكُمْ وَلِيُمَحِّصَ مَا
فِيْ قُلُوْبِكُمْ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿۱۵۴﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ تَوَلَّوْا مِنْكُمْ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعٰنِ ۙ
اِنَّمَا اسْتَزَلَّهُمُ الشَّيْطٰنُ بِبَعْضِ مَا كَسَبُوْا ۚ وَلَقَدْ عَفَا اللّٰهُ عَنْهُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ حَلِيْمٌ ﴿۱۵۵﴾ ع

یودلہ ستاسونه او بله ډله چه فکرمند کړی ؤو هغوی لره نفسونودَ دوی ګمان ئے کووپه اللّٰه تعالیٰ ناحق پشان دَګمان دَ جاهلیت والو ویل دوئ ایاشته مونږ لره دَ امدادنه څه حصه۔ اُوایه: یقیناً امداد ټول دَ اللّٰه تعالیٰ په اختیارکښ دے پټوی دوئ په نفسونو خپلو کښ هغه څه چه نه ښکاره کوی تاته، ویل دوی که چرے وے مونږ لره دَ اختیارنه څه شے نه به وے وژلے شوے مونږ(نسبیان زمونږ) دلته، اُوایه که وے تاسوپه کورونو خپلو کښ نو ضرور به راوتلے وے هغه کسان چه مقرر شوے ؤو په هغوی باندے قتل ځائے دَ غورځیدلو خپلوته او(داکار اللّٰه تعالیٰ اوکړو) دَ دے دپاره چه ازمیښت اوکړی اللّٰه تعالیٰ دَ هغه (نفاق) چه په سینوستاسوکښ دے اودے دپاره چه پاك کړی هغه ایمان چه په زړونو ستاسوکښ دے، اواللّٰه تعالیٰ پوهه دے په هغه خبروچه په سینو کښ دی(۱۵٤) یقیناً هغه خلق چه واپس اوګرځیدل ستاسودَ میدان نه په هغه ورځ چه مخامخ شوے دوه ډلے یقیناً خویولی دی دوی لره شیطان په سبب دَ بعضے هغه عملونوچه دوی کړی دی اویقیناً معافے کړے دے اللّٰه تعالیٰ دویته یقیناً اللّٰه تعالیٰ بخنه کؤونکے دے صبر ناك دے (۱۵۵)

[۱۵٤] دَ عفونه روستودا بل قسم تسلی دپاره دَ صحابه کرامودہ چه په غزوه دَ اُحد کښ په روستو وخت کښ په دوې باندے اللّٰه تعالیٰ پرکالی راوستله تردے پورے چه دَ طلحه﷜ روایت دے چه ځما دَ لاس نه ډیرځله توره اوغورځیدله اوداکرامت اور حمت خاصه دے په دے سره هم غم دَ زړه نه زائله شی لیکن دا حال په منافقانو باندے نه ؤو راغلے دَ هغوی پنځه قبائح په دے آیت کښ ذکردی ﴿اَمَنَةً﴾ اوامناً کښ فرق دا دے چه سبب دَ غم اودَ خوف زائله شی نودے ته امن وئیلے شی اوچه سبب وی لیکن خوف اوغم زائل شی نوهغے ته امنة وئیلے شی﴿مَافِیْ صُدُوْرِکُمْ﴾ خطاب دے منافقانوته﴿وَلِیُمَحِّصَ مَافِیْ قُلُوْبِکُمْ﴾ خطاب دے مؤمنانوته په دے آیت کښ دلیل دے چه اجل اوځائے دَموت په تدبیرونوسره بدلیدلے نشی اووئیلے شی چه په دے آیت کښ ټول حروف هجاء دَ الف نه تر(ی) پورے موجود دی۔

[۱۵۵] په دے کښ تسلی ده صحابه کرامونه په معافی کولودَ هغه چه دوی دَ میدان اُحد نه تختیدلی وؤ ﴿بِبَعْضِ مَاکَسَبُوْا﴾ مراد دَ دے نه هغه عمل دے چه په (۱۵۲)کښ ذکر وؤ او دا دلیل دے چه یوګناه سبب ګرځی دَ بل ګناه دَپاره۔

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَ قَالُوْا لِاِخْوَانِهِمْ اِذَا ضَرَبُوْا فِي الْاَرْضِ اَوْ كَانُوْا
غُزًّى لَّوْ كَانُوْا عِنْدَنَا مَا مَاتُوْا وَمَا قُتِلُوْا ۚ لِيَجْعَلَ اللّٰهُ ذٰلِكَ حَسْرَةً فِيْ قُلُوْبِهِمْ ؕ وَاللّٰهُ
يُحْيٖ وَيُمِيْتُ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿۱۵۶﴾ وَلَئِنْ قُتِلْتُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَوْ مُتُّمْ لَمَغْفِرَةٌ مِّنَ اللّٰهِ
وَرَحْمَةٌ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُوْنَ ﴿۱۵۷﴾ وَلَئِنْ مُّتُّمْ اَوْ قُتِلْتُمْ لَاِلَى اللّٰهِ تُحْشَرُوْنَ ﴿۱۵۸﴾ فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ
اللّٰهِ لِنْتَ لَهُمْ ۚ وَلَوْ كُنْتَ فَظًّا غَلِيْظَ الْقَلْبِ لَانْفَضُّوْا مِنْ حَوْلِكَ ۪ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ
لَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ فِي الْاَمْرِ ۚ فَاِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِيْنَ ﴿۱۵۹﴾ اِنْ

اے ایمان والو: مه کیږئے پشان دَ هغه چاچه کفرئے کړے دے (په نفاق سره) او وائی په باره دَ خپلو (نسبیانو کښ) کله چه هغوی سفر اوکړی په زمکه کښ یاوی هغوی غزا کؤونکی که چرے وے دوی زمونږ په خوا کښ نه به مړه کیدے اونه به وژلے کیدے۔ دے دپاره چه اوګرځوی الله تعالیٰ داخبره ارمان په زړونودَ دوی کښ او الله تعالیٰ ژوندی کول کوی اومړه کول کوی اوالله تعالیٰ ستاسوعملونه وینی (۱۵۶) اوکه اووژلے شوئے تاسوپه لاردَ الله تعالیٰ کښ یامړه شوئے نوبخنه دَ طرف دَ الله نه اوثوابونه غوره دی دَ هغه (مالونو) نه چه دوی ئے جمع کوی (۱۵۷) اوکه مړه شوئے تاسواو اووژلے شوئے تاسو نوضرور الله تعالیٰ به جمع کړی تاسو (۱۵۸) پس په وجه دَ رحمت دَ الله تعالیٰ نرم ئے ته دوی ته اوکه وے ته بدژبے سخت زړے نو ضرور دوی به خواره شوی ؤو ستا چاپیره نه پس معافی اوکړه دَ دوینه اوبخنه اوغواړه دپاره دَ دوی اومشوره غواړه دَ دوینه په کارکښ، پس کله چه قصد اوکړے دَکولودَکارپس تحان اوسپاره په الله تعالیٰ باندے یقیناً الله تعالیٰ مینه کوی دَ توکل کؤونکوسره (۱۵۹) که

[۱۵۶] په دے کښ تعلیم دَخلق حسن دے دپاره دَ دفع کولودَهزیمت هغه داچه دَمنافقانوسره تشبیه مه کوئے په اقوالوکښ او خاص په استعمالولودَکلمے دَ لوپه مقابله دَ تقدیرکښ ﴿لِيَجْعَلَ اللّٰهُ﴾ لام دَ عاقبت دے دَ لاتکونوا دپاره یعنی دَ دوی دَ وینا عاقبت به صرف افسوس اوارمان وی بله فائده ئے نیشته یالام علت دے متعلق دَ لاتکونوا سره اوذلك اشاره ده نه منلودَخبرے دَ منافقانوته۔

[۱۵۷] هرکله چه منافقانوشهادت اومرګ فی سبیل الله بدګنړلو اودَ هغے نه ئے خلق منع کول نوپه دے ایت کښ ئے دَ شهادت طرف ته ترغیب ورکړو ﴿وَرَحْمَةٌ﴾ خاص ثوابونه چه په هغے کښ حصول دَ جنت هم داخل دے۔

[۱۵۸] په دے آیت کښ دَ عام مرګ اوقتل ذکردے اګرچه فی سبیل الله نه وی اوهرکله چه په جهاد کښ شهادت (قتل) ډیروی دَ خپل مرګ نه نومخکی آیت کښ قتل اول راوړواوپه عامو حالاتوکښ خپل مرګ ډیروی دَ قتل نه نوپدے ایت کښ مرګ مخکښ ذکرکړے دے او وئیلے شوی دی چه په دواړه ایتونوکښ درے قسمه خلقوته اشاره ده یوقسم خلق عمل کوی دَ مغفرت دَ ګناهونو دپاره دویم قسم عمل کوی دَحصول دَ جنت دَپاره او دریم قسم عمل کوی دپاره دَ حصول دَ دیدار الٰهی۔

[۱۵۹] په دے آیت کښ صفت دَ نبیﷺ دے چه دَ هغه اخلاق نرم وؤ اشاره ده چه امیر دَ جهادلهٔ هم

يَّنۡصُرۡكُمُ اللّٰهُ فَلَا غَالِبَ لَكُمۡ ۚ وَاِنۡ يَّخۡذُلۡكُمۡ فَمَنۡ ذَا الَّذِىۡ يَنۡصُرُكُمۡ مِّنۡۢ بَعۡدِهٖ ؕ وَعَلَى اللّٰهِ
فَلۡيَتَوَكَّلِ الۡمُؤۡمِنُوۡنَ ﴿۱۶۰﴾ وَمَا كَانَ لِنَبِىٍّ اَنۡ يَّغُلَّ ؕ وَمَنۡ يَّغۡلُلۡ يَاۡتِ بِمَا غَلَّ يَوۡمَ الۡقِيٰمَةِ ۚ ثُمَّ تُوَفّٰى
كُلُّ نَفۡسٍ مَّا كَسَبَتۡ وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُوۡنَ ﴿۱۶۱﴾ اَفَمَنِ اتَّبَعَ رِضۡوَانَ اللّٰهِ كَمَنۡۢ بَآءَ بِسَخَطٍ مِّنَ اللّٰهِ وَ
مَاۡوٰىهُ جَهَنَّمُ ؕ وَبِئۡسَ الۡمَصِيۡرُ ﴿۱۶۲﴾ هُمۡ دَرَجٰتٌ عِنۡدَ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ بَصِيۡرٌۢ بِمَا يَعۡمَلُوۡنَ ﴿۱۶۳﴾ لَقَدۡ مَنَّ اللّٰهُ

امداد اوکړی تاسوسره اللّٰه تعالیٰ پس نیشته زور اوریه تاسو باندے اوکه پرے دی اللّٰه تعالیٰ تاسو پس څوك دے هغه کس چه امداد به اوکړی تاسوسره روستودَ هغه نه اوخاص په اللّٰه تعالیٰ دِ ځان اوسپاری مؤمنان (۱۶۰) اونه دی لائق دَ شان دَ نبی(ﷺ) سره چه خیانت اوکړی اوچاچه خیانت اوکړو نو رابشی دَ هغه څیزسره چه خیانت ئے کړے وی په ورځ دَ قیامت بیابه پوره ورکړے شی هرچاته بدله دَ هغه عمل چه دهٔ کړے وی اوپه دوی به ظلم نشی کیدے(۱۶۱) آیا پس څوك چه تابعدار وی دَ رضا دَ اللّٰه تعالیٰ پشان دَ هغه چادے چه اخته شوے وی په غضب دَ اللّٰه تعالیٰ اوځائے دَ دهٔ جهنم دے، اوبد دے ځائے دَ ورتللو داجهنم (۱۶۲) دوی مختلف درجووالا دی په نیز دَ اللّٰه تعالیٰ اواللّٰه تعالیٰ لیدونکے دے دَ هغه عملونو چه دوی ئے کوی(۱۶۳) یقیناً احسان کړے دے اللّٰه تعالیٰ

داسے صفات پکار دی اوپدے کښ دَ صحابوشان هم ذکردے اګرچه اُحدکښ دَ هغوی نه غلطی شوے وه۔ ﴿فَبِمَا رَحۡمَةٍ﴾ اشاره چه نبی ﷺ په خپلو اوصافوکښ دَ اللّٰه تعالیٰ رحمت ته محتاج دے۔ توکل معنیٰ تفسیر معالم التنزیل داسے لیکلے ده، چه نه کټرے مددګار بغیرَ اللّٰه تعالیٰ نه اونه رازق بغیرَ هغه نه۔ اونه دَ خپلوټولوحالاتوخبردار بغیرَ اللّٰه تعالیٰ نه۔ دارنګ توکل استعمال دَ اسبابودے موافق دَ حکم شرعی سره او اعتماد کول په اللّٰه تعالیٰ باندے۔

[۱۶۰] دا آیت دلیل دے دَ توکل علی اللّٰه چه په محکښ آیت کښ خاص کړے شوپه اللّٰه تعالیٰ پورے او رد دے په شرك فی التصرف باندے ﴿وَعَلَى اللّٰهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ الۡمُؤۡمِنُوۡنَ﴾ په اولوجملوکښ ذکردَ عقیدے دَتوحید دے اوهغه ایمان دے دَ دے وجے نه مؤمنون ئے ذکرکړو۔

[۱۶۱] دا دویم صفت دَ نبی دے او مقصد دادے چه مؤمنانوله نه دی جائزچه نسبت دَ خیانت نبی ﷺ ته کوی اورد دے په هغه منافقانوباندے چه نبی ته نسبت دَغلول کوی لکه شیعګان چه نبی ته نسبت کوی چه هغه بعضے وحی پټه کړے ده۔ غلول، خیانت کول په امانت کښ اوپه مال دَ غنمیت کښ اودَ مسلمانانوپه مشترکه مال کښ دارنګ غلول وحی او علم پټولوته وائی او اشاره دیته ده چه نبی ﷺ چه صحابوته په ظاهر معافی اوکړو نوپه زړه کښ هم دَ هغوی نه رضا دے ځکه که زړه کښ رضانه شی نودا خوغلول دے ﴿يَاۡتِ بِمَا غَلَّ﴾ حدیث کښ راغلی دی چه چا دَ یوځاوری خیانت کړے وی نوپه میدان قیامت کښ به دَ دهٔ په څټ باندے سور وی اوکه کپړه ئے پټه کړے وی یا بل څه شے نودَ هغے هم داحال به وی۔

[۱۶۲] یعنی خیانت نه بچ کیدونکے په رضا دَ اللّٰه تعالیٰ پسے روان دے اوخیانت کړپه غضب دَ اللّٰه تعالیٰ اخته وی نودواړه یوشان نشی کیدے۔

[۱۶۳] دا متعلق دے دَ دواړوټولوسره۔ دلته لفظ پټ مراد دے لهم درجات، یاهم اُلوا درجات۔

عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ اِذْ بَعَثَ فِيْهِمْ رَسُوْلًا مِّنْ اَنْفُسِهِمْ يَتْلُوْا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِهٖ وَيُزَكِّيْهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ
وَالْحِكْمَةَ ۚ وَاِنْ كَانُوْا مِنْ قَبْلُ لَفِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۱۶۴﴾ اَوَ لَمَّآ اَصَابَتْكُمْ مُّصِيْبَةٌ قَدْ اَصَبْتُمْ مِّثْلَيْهَا ۙ
قُلْتُمْ اَنّٰى هٰذَا ؕ قُلْ هُوَ مِنْ عِنْدِ اَنْفُسِكُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۱۶۵﴾ وَمَآ اَصَابَكُمْ يَوْمَ
الْتَقَى الْجَمْعٰنِ فَبِاِذْنِ اللّٰهِ وَلِيَعْلَمَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۶۶﴾ وَلِيَعْلَمَ الَّذِيْنَ نَافَقُوْا ۚۖ وَقِيْلَ لَهُمْ تَعَالَوْا
قَاتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَوِ ادْفَعُوْا ؕ قَالُوْا لَوْ نَعْلَمُ قِتَالًا لَّا اتَّبَعْنٰكُمْ ؕ هُمْ لِلْكُفْرِ يَوْمَئِذٍ اَقْرَبُ
مِنْهُمْ لِلْاِيْمَانِ ۚ يَقُوْلُوْنَ بِاَفْوَاهِهِمْ مَّا لَيْسَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ ؕ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا يَكْتُمُوْنَ ﴿۱۶۷﴾ اَلَّذِيْنَ

پہ مؤمنانوباندے کله چه رالیږلے دے په دوی کښ رسول دَ جنس دَ دوینه بیانوی دویته آیاتونه دَ الله تعالیٰ اوپاکوی دوی لره اوخائی دوی ته کتاب (قرآن) اوپوهه دَ دین (سنت) اګرچه دوی ژو دَ دینه مخکښے خامخاپه ګمراهئ ښکاره کښ (۱٦٤) آیا اوهر وخت چه اورسیدو تاسوته مصیبت چه تاسورسولے دے دوچند دَ هغے نوتاسو وائے دَکوم ځائے نه دا دے؟ اُوایه:چه دا دَ طرف دَ نفسونوستاسونه دے یقیناً الله تعالیٰ په هرځیز باندے قدرت لری(۱٦٥) اوهغه مصیبت چه رسیدلے دے تاسوته په هغه ورځ چه مخا مخ شوے دواړه لښکرے پس داپه حکم دَ الله تعالیٰ دے اودے دپاره چه ښکاره کړی مؤمنان (۱٦٦) او دے دپاره چه ښکاره کړی هغه کسان چه منافقت ئے کړے دے او ویلے شوی دی دوی ته راشئے جنګ اوکړئے په لاره الله تعالیٰ کښ یا دفع کړئے دُشمن، دوی ویل: که پوهیدلے مونږ په جنګ خامخا مونږ به تابعداری کړے وے ستاسو دوی کفرته په دے ورځ زیات نزدے دی په نسبت دَ دوی ایمان ته: وائی دوئ په خولوخپلوباندے هغه چه نیشته په زړونودَ دوی کښ، اوالله تعالیٰ خه پوهه دے په هغه څه چه دوی ئے پټوی (۱٦٧) داهغه کسان دی

[۱٦٤] په دے کښ بل صفت دَ نبی ﷺ دے اودا پشان دَدلیل دے دپاره دَمخکے آیت یعنی نبی خیانت ګرنشی کیدے ځکه چه دَ هغه بعثت خواحسان دَ الله تعالیٰ دے اوپه خیانت ګرسره احسان نه رائی اودَ هغه ځلور فرائض ئے ذکرکړی دی اشاره ده دیته چه دَ هرعالم اودَ امیردَ مسلمانانوهم دا ذمه داری ده۔ اوداپه سورهٔ بقره (۱۲۹، ۱۵۱) کښ تیرشویدی سرهٔ دَ تفسیرنه۔

فائده: دا ایت دلیل دے چه نبی بشروؤ ځوك چه دَ هغه بشریت نه منکروی یا په هغے کښ شك کوی نودَ دے آیت نه منکردی صاحب دَ روح المعانی داسے لیکلی دی۔

[۱٦٥] په دے درے اياتونوکښ دَ هز یمت اُحد نورحکمتونه اوسببونه ذکرکوی دپاره دَ جواب دَ سوال دَ منافقانو ﴿مِنْ عِنْدِ اَنْفُسِكُمْ﴾ ستاسو دَ عملونودَ وجے نه لکه چه په (۱۵۲) کښ ذکرشول۔

[۱٦٦] په دے آیت کښ دَ هزیمت بله وجه ذکرشویده ﴿فَبِاِذْنِ اللّٰهِ﴾ مراد دَ دے نه قضا اوتقدیردَ الله تعالیٰ دے۔

[۱٦٧] په دے کښ ئے دَ هزیمت نورے وجے ذکرکړی دی ﴿اَوِادْفَعُوْا﴾ دا دَ قتال بله وجه ده چه تکثیردَ لښکراودفاع کول هم جهاد دے ﴿لَوْنَعْلَمُ﴾مراد دا دے چه که مونږ پوهیدلے چه دا جهاد فی سبیل الله دے

قَالُوْا لِاِخْوَانِهِمْ وَقَعَدُوْا لَوْ اَطَاعُوْنَا مَا قُتِلُوْا ؕ قُلْ فَادْرَءُوْا عَنْ اَنْفُسِكُمُ الْمَوْتَ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۱۶۸﴾ وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ قُتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَمْوَاتًا ؕ بَلْ اَحْيَآءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُوْنَ ﴿۱۶۹﴾ فَرِحِيْنَ بِمَآ اٰتٰىهُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ ۙ وَيَسْتَبْشِرُوْنَ بِالَّذِيْنَ لَمْ يَلْحَقُوْا بِهِمْ مِّنْ خَلْفِهِمْ ۙ اَلَّا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿۱۷۰﴾ يَسْتَبْشِرُوْنَ بِنِعْمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ وَفَضْلٍ ۙ وَّاَنَّ اللّٰهَ لَا يُضِيْعُ اَجْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۷۱﴾ ع

چه وائی په باره دَ رونړو خپلو کښ اوناست دی (دَ جهاد نه) که دوی ځمونږ خبره منلے نه به ژو وژلے شوے اُوایه پس دفع کړئے دَ خپلو ځانونونه مرګ که تاسو رشتینی یئ (۱۶۸) اوګمان مه کوه په هغه کسانوچه او وژلے شول په لارد اللّٰه تعالیٰ کښ مړه (دَ عاموړو پشان) بلکه دوی ژوندی دی نزدے دی رب خپل ته رزق ورکیدے شی دویته(۱۶۹) خوشحالیږی په هغه څه چه ورکړی دی دویته اللّٰه تعالیٰ دَ فضل خپل نه اوزیږے به آخلی په باره دَ هغه کسانوکښ چه نه دی رسیدلی دوی ته دَ روستو دَ دوی نه چه نه به وی ویره په دوی باندے اونه به دوی خفه کیږی (۱۷۰) زیږے به آخلی په نعمت دَ اللّٰه تعالیٰ اوپه فضل سره اویقیناً اللّٰه تعالیٰ نه بربادوی ثواب دَ ایمان والو (۱۷۱)

نومونږ به تاسو سره پکښ شرکت کړے وے یا دا مطلب دے که پوهیدے مونږ په طریقه دَ جهاد باندے نومونږبه تاسو سره ملګرتیا کړے وے اوپه دے آیت کښ دَ منافقانو ځلورقبائح ذکردی ﴿هُمْ لِلْكُفْرِ يَوْمَئِذٍ﴾ کله منافق په اظهاردَ قول یا عمل دَکفرسره کفرته ښه نیزدے شی۔

[۱۶۸] په دے آیت کښ یوقباحت ذکردے ﴿لِاِخْوَانِهِمْ﴾ مراد دَ دے نه قومی رورولی ده۔

[۱۶۹] هرکله چه مخکښ آیت کښ بیان شوه چه دوی شهادت فی سبیل اللّٰه معمولی شے ګنړلونوپه دے آیت کښ دَ شهیدانولوئی دَ شان بیانوی دَپاره دَ ردپه ګمان دَ منافقانو باندے دَ دے وجے نه دلته په اول کښ ئے اوفرمائیل ﴿وَلَا تَحْسَبَنَّ﴾ یعنی دوی داسے مړه نه دی چه دَ لذتونواودَ مزونه محرومه دی بلکه پس دَ مرګ نه دوی لره برزخ کښ مزے دی اودابرزخی ژوند شهیدانودپاره اعلیٰ دے او انبیاء علیهم السلام لره دَ دے نه زیات دے اودیته روحانی ژوند هم وئیلے کیږی اوکله کله دَ دے اثرپه بدن داسے اوشی چه بدن ئے دَ خاورے کیدلونه بچ کړے شی۔ اودَ دے زیاته تشریح په سورۃ بقره (۱۵٤) کښ تیره شویده ﴿يُرْزَقُوْنَ﴾ دَ دینه هم برزخی رزق مراد دے اودَ دے دَ حقیقت اوتفصیلاتونه اللّٰه تعالیٰ خبردے۔ په دے آیت کښ ئے دَ بشارت ځلور نکتے ذکرکړے دی۔

[۱۷۰] په دے آیت کښ دَ بشارت دوه نکتے ذکردی مطلب دا دے چه دَ دوی اهل وعیال اوتعلق دارچه هغوی هم دَ ایمان او توحید په عقیده باندے دی لیکن محنت اوجهاد ئے دَ دوی پشان نه دے کړے نو اللّٰه تعالیٰ به هغوی هم جنت ته داخل کړی اودوی له به دَ هغوی په باره کښ زیږے ورکوی په ﴿اَلَّا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ﴾ سره۔

[۱۷۱] په دے کښ هم دَبشارت درے خبرے ذکرکوی۔ نعمت دا دے چه اجربه ورته پوره ملاویږی اوفضل دا دے چه زیاتی به ورکوی او ﴿وَاَنَّ اللّٰهَ﴾ یعنی دَثواب کمے یا ورکیدل به نه وی۔

اَلَّذِيْنَ اسْتَجَابُوْا لِلّٰهِ وَالرَّسُوْلِ مِنْۢ بَعْدِ مَآ اَصَابَهُمُ الْقَرْحُ ۛ لِلَّذِيْنَ اَحْسَنُوْا مِنْهُمْ وَاتَّقَوْا
اَجْرٌ عَظِيْمٌ ﴿۱۷۲﴾ اَلَّذِيْنَ قَالَ لَهُمُ النَّاسُ اِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُوْا لَكُمْ فَاخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ اِيْمَانًا ۖ
وَّقَالُوْا حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ ﴿۱۷۳﴾ فَانْقَلَبُوْا بِنِعْمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ وَفَضْلٍ لَّمْ يَمْسَسْهُمْ سُوْٓءٌ ۙ
وَّاتَّبَعُوْا رِضْوَانَ اللّٰهِ ۗ وَاللّٰهُ ذُوْ فَضْلٍ عَظِيْمٍ ﴿۱۷۴﴾ اِنَّمَا ذٰلِكُمُ الشَّيْطٰنُ يُخَوِّفُ اَوْلِيَآءَهٗ ۠ فَلَا تَخَافُوْهُمْ
وَخَافُوْنِ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۱۷۵﴾ وَلَا يَحْزُنْكَ الَّذِيْنَ يُسَارِعُوْنَ فِي الْكُفْرِ ۚ اِنَّهُمْ لَنْ يَّضُرُّوا

هغه کسان چه منلے دے حکم دَ اللّٰه اودَ رسول روستودَ هغے نه چه رسیدلے دے دویته زخم، دپاره دَ هغه چاچه خائسته عمل ئے کړے دے دَ دوینه او ویره ئے کړے ده ثواب لوئے دے (۱۷۲) داهغه کسان دی چه اُویل دوی ته خلقو(جاسوس) یقیناً کافرانوخلقو جمع کړی دی ستاسودَ مقابلے دپاره (لښکرے) پس اویریږئ دَ دوی نه پس زیات ئے کړو دوی لره ایمان ـاو اُویل دوی: پوره دے مونږ له اللّٰه تعالیٰ اوښه کارسازدے (۱۷۳) پس واپس شو دوی په نعمت دَ اللّٰه تعالیٰ اوپه فضل سره نه ؤو رسیدلے دوی ته هیڅ تکلیف اوتابعداری ئے اوکړه دَ رضا دَ اللّٰه تعالیٰ اواللّٰه تعالیٰ لوئے فضل والادے (۱۷٤) یقیناً دا (جاسوس) شیطان دے ویره وی تاسودَ ملګروخپلونه پس مه ویریږئ دَ هغوی نه او اویریږے ځمانه ځکه چه تاسو مؤمنان یئ (۱۷۵) اونه دِ خفه کوی تاهغه کسان چه جلتی کوی په کارونو دَکفرکښ یقیناً دوی چرے ضرر نشی ورکولے

[۱۷۲] دَ اُحد نه روستوابوسفیان (چه دَ مشرکانودَ لښکرمشروؤ) حمراء الاسد مقام ته اورسیدو، پس هلته کښ ئے ملګروته اُوئیل چه دَ دے مسلمانانوبیخ کندی کول پکار ؤ دَ دے دپاره واپس تلل ضروری دی۔ لیکن دَ دوی زړونوکښ رعب راغے نوواپس نشول خوجاسوس ئے مدینے ته دَ مسلمانانودَ ویره ولودپاره راولیګلو۔ نبی ﷺ چه خبرشوهغه مؤمنانوته بیا دَجهاد اعلان اوکړونو هغوی سرهٗ دَ زخمونونه لیبك اُوئیل اوهغے ځائے (حمراء الاسدمقام) ته اورسیدلو، مشرکان تختیدلی وؤدوی په ډیرو فائدو او ثوابونو سره واپس شول دیته مؤرخینوبدرثانیه هم وئیلے دے اوپه دے آیت کښ بشارت دے مجاهدینوته اوعظمت شان دَ صحابؤ دے ﴿مِنْهُمْ﴾ دا مِن بیانی دے ځکه چه دغه صحابه کرام ټول په احسان دَ تقویٰ سره موصوف ؤو۔

[۱۷۳] دا دَجاسوس دَمشرکانودروغ پراپیګنډه وه صحابه کراموباندے هیڅ رعب رانغے او ﴿حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ﴾ ئے اُوئیل۔ اوداکلمه ابراهیم علیه السلام هغه وخت وئیلے وه چه اورته غورځولے کیدو، دا دَنجات کلمه ده اوکلمه دَ توحید ده ﴿النَّاسُ﴾ دَ دے نه مراد جاسوس دے ﴿اِنَّ النَّاسَ﴾ دَ دے نه مراد مشرکین مکه دی ﴿فَزَادَهُمْ اِيْمَانًا﴾ دا دلیل دے چه په ایمان کښ زیاتے راځی که نفس ایمان وی اوکه اعمال وی۔

[۱۷٤] نعمت دَ اللّٰه تعالیٰ ثواب دَ جهاد دے، او فضل داچه په تجارت کښ ډیره نفع اوشوه۔

[۱۷۵] ﴿يُخَوِّفُ اَوْلِيَآءَهٗ﴾ اوله معنیٰ دا ده ویروی تاسولره دَ دوستانوخپلونه اودویمه معنیٰ دا ده ویره وی ملګری خپل یعنی منافقان ﴿وَخَافُوْنِ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ﴾ دا خوف چه غالب وی په خوف شیطانی

اللّٰهَ شَيْـًٔا ؕ يُرِيْدُ اللّٰهُ اَلَّا يَجْعَلَ لَهُمْ حَظًّا فِى الْاٰخِرَةِ ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿۱۷۶﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ اشْتَرَوُا
الْكُفْرَ بِالْاِيْمَانِ لَنْ يَّضُرُّوا اللّٰهَ شَيْـًٔا ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۱۷۷﴾ وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَنَّمَا نُمْلِىْ
لَهُمْ خَيْرٌ لِّاَنْفُسِهِمْ ؕ اِنَّمَا نُمْلِىْ لَهُمْ لِيَزْدَادُوْٓا اِثْمًا ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ﴿۱۷۸﴾ مَا كَانَ اللّٰهُ لِيَذَرَ
الْمُؤْمِنِيْنَ عَلٰى مَآ اَنْتُمْ عَلَيْهِ حَتّٰى يَمِيْزَ الْخَبِيْثَ مِنَ الطَّيِّبِ ؕ وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُطْلِعَكُمْ
عَلَى الْغَيْبِ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَجْتَبِىْ مِنْ رُّسُلِهٖ مَنْ يَّشَآءُ ۪ فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ ۚ وَاِنْ تُؤْمِنُوْا وَ
تَتَّقُوْا فَلَكُمْ اَجْرٌ عَظِيْمٌ ﴿۱۷۹﴾ وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ يَبْخَلُوْنَ بِمَآ اٰتٰىهُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ هُوَ خَيْرًا

اللّٰه تعالیٰ ته هیڅ، غواړی اللّٰه تعالیٰ چه ورنکړی دوی لره برخه په اخرت کښ۔ اودوی لره عذاب لوئے دے (۱۷۶) یقیناً هغه کسان چه اغستے دے کفرپه بدله دَ ایمان کښ چرے ضرر نشی ورکولے اللّٰه تعالیٰ لره هیڅ او دوی لره عذاب درد ناك دے (۱۷۷) اوګمان دِ نه کوی کافران چه مهلت ورکول ځما دوی لره غوره دے دپاره دَ ځانونودَ دوی یقیناً مهلت ورکړو مونږ دوی لره دَ دے دپاره چه زیات شی ګناه دَ دوی، اودوی لره عذاب شرمؤونکے دے (۱۷۸) نه کوی اللّٰه تعالیٰ چه پریږدی مؤمنانو لره په هغه ځال (ګلهوډ) باندے چه تاسوپه هغے یئ، تردے چه جدا کړی پلیت (منافق) دَ پاك (مخلص) نه اونه دے اللّٰه تعالیٰ چه خبر کړی تاسو په پټو خبرو باندے، اولیکن اللّٰه تعالیٰ غوره کوی دَ رسولانوڅخلونه څوك چه اوغواړی، پس ایمان راوړئے په اللّٰه تعالیٰ اوپه رسولانودَ هغه اوکه ایمان راوړئے تاسو اوځان بچ کړئے دَ نفاق نه پس تاسوله ثواب لوئے دے (۱۷۹) اوګمان دِ نه کوی هغه کسان چه شومتیا کوی په هغه مال چه ورکړے دے دویته اللّٰه تعالیٰ دَ فضل نه چه داغوره دے

باندے اوجهاد کوی داخوف نفسِ ایمان دے۔

[۱۷۶] داتسلی ده رسول اللّٰهﷺ ته ﴿يُسَارِعُوْنَ فِى الْكُفْرِ﴾ دَکفردپاره جنګونه کوی او دابسکاره کافردی ﴿لَنْ يَّضُرُّوا اللّٰهَ﴾ اللّٰه تعالیٰ اودَ هغه دین ته هیڅ نقصان نه شی رسولے ﴿يُرِيْدُ اللّٰهُ﴾ یعنی مسارعت دَ دوی په کارونودَ کفرکښ سبب ګرځولے اللّٰه تعالیٰ دَ محروم کیدلو دَ دوی دَ ثواب دَ آخرت نه۔

[۱۷۷] په دے آیت کښ منافقان مراد دی ﴿اشْتَرَوُاالْكُفْرَ﴾ اشتراء په معنیٰ دَ غوره کولوده اوداسے صفت دَ دوی په سورة بقره (۱۶) کښ ذکروؤ۔

[۱۷۸] دا زورنه ده کافرانوته اوجواب دَ سوال دے چه کافرانو ته عمرونه اومالونه ولے ورکړے شوی دی؟ ﴿لِيَزْدَادُوْٓا اِثْمًا﴾ یعنی په مهلت ورکولوسره غفلت پیداشی اوپه غفلت سره ګناهونه ډیریږی۔

[۱۷۹] دا دَ سوال جواب دے چه دا مصیبتونه په مؤمنانوباندے ولے راځی؟ اوجهاد ولے فرض شوے دے؟ جواب اوشوچه داتمیزدَ منافق اومخلص دپاره دے ﴿مَآ اَنْتُمْ عَلَيْهِ﴾ ګلهوډ حالت مراد دے ﴿وَمَا كَانَ اللّٰهُ﴾ دا دَ بل سوال جواب دے سوال داچه اللّٰه تعالیٰ مصیبتونه ولے راولی؟ خواللّٰه تعالیٰ دِمنافقان مونږته او ځائی؟ جواب اوشوچه داغیب دے اواللّٰه تعالیٰ غیب چاله نه ورکوی ﴿لٰكِنَّ اللّٰهَ يَجْتَبِىْ﴾ دا دَ سوال جواب دے سوال دا دے چه انبیاء چه کله دَبعضے غیبوخبرونه ورکوی نو دوی غیب دان شول؟ جواب دا دے چه دا په وحی سره خبر

لَّهُمْ ؕ بَلْ هُوَ شَرٌّ لَّهُمْ ؕ سَيُطَوَّقُوْنَ مَا بَخِلُوْا بِهٖ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ وَلِلّٰهِ مِيْرَاثُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ
وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ﴿۱۸۰﴾ لَقَدْ سَمِعَ اللّٰهُ قَوْلَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ فَقِيْرٌ وَّنَحْنُ اَغْنِيَآءُ ۘ سَنَكْتُبُ مَا قَالُوْا وَقَتْلَهُمُ الْاَنْۢبِيَآءَ بِغَيْرِ حَقٍّ ۙ وَّنَقُوْلُ ذُوْقُوْا عَذَابَ الْحَرِيْقِ ﴿۱۸۱﴾ ذٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ
اَيْدِيْكُمْ وَاَنَّ اللّٰهَ لَيْسَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ ﴿۱۸۲﴾ اَلَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ عَهِدَ اِلَيْنَآ اَلَّا نُؤْمِنَ

دوی لره، بلکه دابد دے دوی لره، زردے دَ دوی غاړے ته به واچولے شی هغه شے چه شومتیا کوی دوی په هغے په ورځ دَ قیامت۔ اوخاص اللّٰه تعالیٰ لره دی آخری پاتے کیدل دَ اسمانونو او زمکے اواللّٰه تعالیٰ په هغه عملونو چه تاسو کوئ خبردار دے (۱۸۰) یقیناً واوریده اللّٰه تعالیٰ وینا دَ هغه کسانو چه دوی وائی بیشکه اللّٰه تعالیٰ محتاج دے اومونږ مالداریو خامخا لیکو مونږ هغه چه دوی وائی اووژل دوئ پیغمبرانو لره بغیرد جرم شرعی نه او اوبه وایومونږ اوځکئی عذاب دَ اور سوزوونکی(۱۸۱) دا عذاب په سبب دَ هغه عمل دے چه مخکښے لیګلی دی لاسونو دَ دوی،او یقیناً اللّٰه تعالیٰ نه دے ظلم والاپه بندګانوباندے (۱۸۲)داهغه کسان دی چه وائی دوی یقیناً اللّٰه تعالیٰ حکم کړے دے مونږته چه ایمان به نه راوړو

ورکوی، دیته اجتباء وائی علم غیب نه دے ﴿الْغَيْبَ﴾ الف لام په دے کښ عهدی دی مراد ترینه جدائی ده دَ مؤمن اودَ منافق په تفصیل سره ﴿وَلٰكِنَّ﴾ دا استثناء منقطع ده۔

فائده: دا آیت دلالت کوی چه په مدینه کښ په آخری وقت کښ اللّٰه تعالیٰ منافقان دَ مخلصینو نه جداکړی وؤ۔

[۱۸۰] دا زورنه ده منافقانوته دَ هغوی په بخل باندے او تخویف اُخروی دے۔ بخل دادے چه فرض او واجب ځایونو کښ خرچ نه کوی اودَ جهاد دپاره هم خرچ نه کوی ﴿سَيُطَوَّقُوْنَ﴾ دَ دے تفسیر په حدیث کښ دے چه دا مال به په شکل دَ ګنجی خامار جوړ کړے شی اودَ دهٔ غاړے ته به واچولے شی اودَ دهٔ وځکی به اوشلوی اووائی به چه ځه ستا مال یم او خزانه یم ﴿وَلِلّٰهِ مِيْرَاثُ﴾ دلیل دے چه وارث دَټول عالم صرف اللّٰه تعالیٰ دے مراد ترینه آخری مالك دے چه په هغه باندے فنانه راځی نوداچه جاهلان وائی اللّٰه اونبی وارث، نودا دَ شرك خبره ده۔

[۱۸۱] دَ دے آیت نه دَ دے حصے دویم باب دے تر(۱۸۸) پورے په دے کښ درے قباحتونه دَ کتابیانو ذکرکوی چه دَ دینه ځان بچ کړئے(۱) دَاللّٰه تعالیٰ بے ادبی(۲) دَ رسول نه انکارپه دروغ بهانے سره (۳) حق پټول، هرکله چه مخکښ آیت کښ دَ بخل کوؤنکوبدی بیان شوه اومقصد دَ هغے ترغیب وؤچه دَ اللّٰه تعالیٰ دپاره خرچ اوکړئے نو دوی دا اعتراض اوکړوچه آیا اللّٰه تعالیٰ غریب دے او مونږ مالداریو؟ پوهه خلقو په طریقه دَ استفهام سره وئیل اوناپوهه خلقوعقیدهٔ وئیل ﴿لَقَدْ سَمِعَ﴾ دلته دَ سخت زورنے دَپاره دے ﴿سَنَكْتُبُ مَاقَالُوْا﴾ مراد دَ دے نه کتابت دے په ذریعه دَ کراماً کاتبین سره۔

[۱۸۲] دَ عذاب دوه سببه دی یو دَدوی عملونه او دویم دَ اللّٰه تعالیٰ عدل (عدم ظلم) دے ﴿بِظَلَّامٍ﴾ صیغه دَ مبالغے نه ده بلکه په معنیٰ دَ ظلم سره دے۔

لِرَسُوْلٍ حَتّٰى يَاْتِيَنَا بِقُرْبَانٍ تَاْكُلُهُ النَّارُ ؕ قُلْ قَدْ جَآءَكُمْ رُسُلٌ مِّنْ قَبْلِيْ بِالْبَيِّنٰتِ وَبِالَّذِيْ
قُلْتُمْ فَلِمَ قَتَلْتُمُوْهُمْ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۱۸۳﴾ فَاِنْ كَذَّبُوْكَ فَقَدْ كُذِّبَ رُسُلٌ مِّنْ قَبْلِكَ جَآءُوْ
بِالْبَيِّنٰتِ وَالزُّبُرِ وَالْكِتٰبِ الْمُنِيْرِ ﴿۱۸۴﴾ كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ ؕ وَاِنَّمَا تُوَفَّوْنَ اُجُوْرَكُمْ يَوْمَ
الْقِيٰمَةِ ؕ فَمَنْ زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَاُدْخِلَ الْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ ؕ وَمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَآ اِلَّا مَتَاعُ الْغُرُوْرِ ﴿۱۸۵﴾

په رسول باندے تردے چه راوړی قربانی چه خوری هغے لره اور، ته اُوایه یقیناً راغلي دی تاسوته ډیر رسولان ځمانه مخکښے په ښکاره دلیلونو سره اوپه هغه شی چه تاسووائے پس ولے تاسو وژل دوی لره که تاسو رشتینی یئ (۱۸۳) پس که دوی تاته دروغژن وائی(صبرکوه) پس دروغژن ویلے شوی دی ډیرو رسولانوته ستانه مخکښے راوړی ژوهغوی ښکاره دلیلونه (عقلی) او واړه کتابونه اولوئے کتاب رنړا کۈونکے (۱۸٤) هرساه والا ځکونکے دَ مرګ دے، اویقیناً پوره به ورکړے شی تاسوته ثوابونه ستاسوپه ورځ دَ قیامت، پس څوك چه لرے کړے شو دَ اورنه اوداخل کړے شوجنت ته پس یقیناً کامیاب شو، اونه دے ژوند دُنیوی مګر سامان دَ دهوکے دے(۱۸۵)

[۱۸۳] دا دویم قباحت دَ دوی ذکرکوی دوی دَ آخری رسول نه په یو دروغ عذر سره انکارکوؤ چه زمونږ په کتاب کښ داحکم دے چه دَ هر رسول قربانی به په اور سره سوزی، او دَ دے رسول قربانی په فقیرانوتقسیم کیږی اوپه دے کښ مقصد دَ دوی مخالفت کول وؤدَانفاق فی سبیل اللّٰه نه او دا باطل ځکه دے چه تورات کښ دَ دے سره لفظ دَ بنی اسرائیل ذکروؤ یعنی دَ نبی دَ بنی اسرائیلودانبنه ده لیکن دوی دَ مقید نه مطلق جوړکړے وؤ اولفظ دَ بنی اسرائیلو ئے لرے کړو ﴿بِقُرْبَانٍ﴾ هرهغه ځیزچه په هغے سره اللّٰه تعالیٰ نزدیکت حاصلیږی اواکثراستعمالیږی په مالی صدقاتوکښ۔

[۱۸٤] په دے کښ تسلی ده رسول ﷺ ته ﴿بَيِّنٰتٍ﴾ هغه دلیلونه عقلی یقینی دی دَ اثبات دَ مسئلے دَتوحید دپاره ﴿زُبُرٍ﴾ هغه کتابونه چه په هغے کښ وعظونه دی او تخویف زجرونه دی او دا دلیل نقلی ته اشاره ده ﴿وَالْكِتٰبِ الْمُنِيْرِ﴾ غټ کتاب دَ اللّٰه تعالیٰ دے چه مشتمل دے په احکاموباندے اوپه دے کښ اشاره ده دلیل وحی ته۔دارنګ بَیِّنَاتِ، عاموخلقودپاره وی اوزبرد درمیانه خلقودپاره دے اوکتاب منیرد خاص خلقودپاره دے۔

[۱۸۵] دَ دے آیت په اوله جمله کښ تشجیع ده په جهاد باندے اوپه آخره جمله کښ ترغیب دے دَ انفاق فی سبیل اللّٰه، اوپه مینځ کښ زیرے دے دپاره دَ صبرناکومجاهدینو ﴿مَتَاعُ الْغُرُوْرِ﴾ یعنی محبت دَ ژوند دنیوی غفلت پیداکوی دَ اعمالودَ آخرت نه ﴿كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ﴾ په دے کښ هم تردید دے په عقیده دَ نصاریٰ باندے هغوی وائی چه مرګ راتلل نتیجه دَ ګناهونوده نو دوی وائی چه کوم حق نبی او ولی وی نوپه هغوی باندے مرګ نه راځی نفس، په معنیٰ دَ ساوالا(جاندار) موت، روح جداکیدل دَ بدن نه اودا جدائی مرګ دَ بدن اودَ روح دواړو ده۔

لَتُبْلَوُنَّ فِيْٓ اَمْوَالِكُمْ وَاَنْفُسِكُمْ ۫ وَلَتَسْمَعُنَّ مِنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَمِنَ الَّذِيْنَ
اَشْرَكُوْٓا اَذًى كَثِيْرًا ۭ وَاِنْ تَصْبِرُوْا وَتَتَّقُوْا فَاِنَّ ذٰلِكَ مِنْ عَزْمِ الْاُمُوْرِ ۱۸۶ وَاِذْ اَخَذَ اللّٰهُ مِيْثَاقَ
الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ لَتُبَيِّنُنَّهٗ لِلنَّاسِ وَلَا تَكْتُمُوْنَهٗ ۡ فَنَبَذُوْهُ وَرَاۗءَ ظُهُوْرِهِمْ وَاشْتَرَوْا بِهٖ
ثَمَنًا قَلِيْلًا ۭ فَبِئْسَ مَا يَشْتَرُوْنَ ۱۸۷ لَا تَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ يَفْرَحُوْنَ بِمَآ اَتَوْا وَّيُحِبُّوْنَ اَنْ يُّحْمَدُوْا
بِمَا لَمْ يَفْعَلُوْا فَلَا تَحْسَبَنَّهُمْ بِمَفَازَةٍ مِّنَ الْعَذَابِ ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۱۸۸ وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَ
الْاَرْضِ ۭ وَاللّٰهُ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۱۸۹ اِنَّ فِيْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَاخْتِلَافِ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ

خامخا ازمبتست به اوکړے شی په تاسو باندے په مالونوستاسوکښ اونفسونوستاسوکښ اوخامخابه واورئے تاسودَ هغه کسانونه چه ورکړے شوے دے ورته کتاب مخکښے ستاسونه اودَ هغه کسانونه چه شرك ئے کړے دے بده وینا ډیره اوکه صبر اوکړوتاسو اوځان هم بچ کړودَ ګناه نه پس یقیناً دادَ پخو(اودَ ضروری) کارونونه دے(۱۸۶) اوکوم وخت چه واغستو اللّٰه تعالیٰ پوخ لوظ دَ هغه کسانونه چه ورکړے شوے دے دوی ته کتاب خامخا تشریح به کوے دَ دئے خلقوته اونه به پټوئے دے لره پس اوغورځوو دوی روستودَ شاکانوخپلونه او واغستو دوی په هغے سره عوض لږ (دُنیا) پس بد دے هغه چه دوی اخلی(۱۸۷) ګمان مه کوه په هغه کسانو چه خوشحالیږی په هغه کار چه کوی (حق پټول) اوغواړی چه صفت اوکړے شی دَ دوی په هغه کارچه دوی نه دے کړے پس ګمان مه کوه په دوی باندے په بچ کیدلو سره دَ عذاب نه، اودپاره دَ دوی عذاب درد ناك دے (۱۸۸) اوخاص اللّٰه تعالیٰ لره بادشاهی دَ آسمانونواودَ ځمکے ده اواللّٰه تعالیٰ په هرځیز باندے قدرت والا دے (۱۸۹) یقیناً په پیدائش دَ آسمانونو اودَ ځمکه کښ اوتلوراتلو دَ شپے اودَ ورځ کښ

[۱۸۶] دے آیت کښ هم تشجیع ده په جهاد اوانفاق فی سبیل اللّٰه باندے ﴿عَزْمِ الْاُمُوْرِ﴾ هغه کارونه چه په شرع کښ فرض وی او انبیاؤ په هغے باندے عمل کړے وی ﴿اَذًى كَثِيْرًا﴾ کنځل کول بهتانونه ترڼ اودَ دین په باره کښ باطل اعتراضونه کول داخل دی په اذی کښ۔

[۱۸۷] په دے کښ بیان دَ دریم قباحت دے چه هغه کتاب اللّٰه پټول دی اوپه هغے دُنیا ګټل دی ﴿فَنَبَذُوْهُ وَرَاۗءَ ظُهُوْرِهِمْ﴾ شاته غورځولونه مرادعمل پریخودل دی اوحکم دَ دے آیاتونودَ دے اُمت علماؤته هم شامل دے چه حق پټوی اوحق نه بیانوی اودَحق په بدله کښ دُنیا غوره کوی ﴿لَتُبَيِّنُنَّهٗ﴾ تبیان پوره شرح کولو ته وئیلے شی صرف معنیٰ اوترجمه کول تبیان نه دے۔

[۱۸۸] دے ایت کښ هم زورنه ده پټوونکو دَ حق ته چه حق پټوی اوطمع لری چه خلق دِ مونږ ته حق پرست اُوائی ﴿يَفْرَحُوْنَ﴾ مراد دَ دے نه خوشحالی دَتکبرکولوده ﴿بِمَآ اَتَوْا﴾ مراد دَ دے نه حق پټول اودُنیا پرستی کول دی ﴿بِمَا لَمْ يَفْعَلُوْا﴾ حق سکاره کول یعنی حق ئے نه دے بیان کړے او خیال ئے دا دے چه خلق دِ مونږ ته حق پرست اُوائی۔

[۱۸۹] دَ دے ځائے نه آخره پورے دریم باب دے په دے کښ اعاده دَ ځلورو مضامینوده۔ توحید، رسالت،

لَاٰيٰتٍ لِّاُولِي الْاَلْبَابِ ﴿۱۹۰﴾ الَّذِيْنَ يَذْكُرُوْنَ اللّٰهَ قِيٰمًا وَّ قُعُوْدًا وَّ عَلٰى جُنُوْبِهِمْ وَ يَتَفَكَّرُوْنَ فِيْ
خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هٰذَا بَاطِلًا ۚ سُبْحٰنَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴿۱۹۱﴾ رَبَّنَاۤ اِنَّكَ
مَنْ تُدْخِلِ النَّارَ فَقَدْ اَخْزَيْتَهٗ ؕ وَمَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ اَنْصَارٍ ﴿۱۹۲﴾ رَبَّنَاۤ اِنَّنَا سَمِعْنَا مُنَادِيًا يُّنَادِيْ
لِلْاِيْمَانِ اَنْ اٰمِنُوْا بِرَبِّكُمْ فَاٰمَنَّا ۟ رَبَّنَا فَاغْفِرْ لَنَا ذُنُوْبَنَا وَ كَفِّرْ عَنَّا سَيِّاٰتِنَا وَ تَوَفَّنَا مَعَ
الْاَبْرَارِ ﴿۱۹۳﴾ رَبَّنَا وَاٰتِنَا مَا وَعَدْتَّنَا عَلٰى رُسُلِكَ وَلَا تُخْزِنَا يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ اِنَّكَ لَا تُخْلِفُ الْمِيْعَادَ ﴿۱۹۴﴾

ډیر دلیلونه دی صفا عقل والؤ لره (۱۹۰) دوی داسے خلق دی چه یادوی الله تعالی په ولاړے اوپه ناستے اوپه ډډو خپلو باندے اوفکر کوی په پیدائش دَ اسمانونو او دَ ځمکه کښ(وائی دوی) اے ربه ځمونږ نه دی پیدا کړی تا دایے فائدے پاکی ده ستا پس بچ کړے مونږ دَ عذاب دَ اورنه (۱۹۱) اے ربه ځمونږ یقیناً ته څوك چه داخل کړے اورته پس یقیناً اوشرموؤ تاهغه لره اونیشته ظالمانو لره هیڅ مدد ګاران(۱۹۲) اے ربه ځمونږیقیناً مونږ واوریدو یو آوازکؤونکے چه آوازکوی ایمان ته چه ایمان راوړئے په رب خپل پس ایمان راوړو مونږ۔ اے ربه ځمونږ پس اوبخے مونږ ته ګناهونه ځمونږ اولرے کړے زمونږنه بدئے ځمونږاومرګ راولے په مونږ په ملګرتیا دَ نیکانوکښ (۱۹۳) اے ربه ځمونږ اوراکړے مونږته هغه چه تاوعده کړے ده مونږ سره په ژبه دَ رسولانو ستا اومه شرموے مونږ په ورځ دَ قیامت یقیناً ته خلاف نه کوے دَ وعدے نه (۱۹٤)

انفاق اوصفات دَ نیکانودی لس، اوخلور دعاګانے دی۔ په دے ایت کښ مسئله دَ توحید ده چه واکدار اواختیارمند صرف الله تعالی دے او رد دے په شرك فی التصرف باندے۔

[۱۹۰] په دے ایت کښ دلیل عقلی دے په توحید باندے ﴿لَاٰيٰتٍ﴾ دَتوحید اودَ حکمت اوقدرت اوحاکمیت دَ هغه دلیلونه دی ﴿لِّاُولِي الْاَلْبَابِ﴾ خالص اوپاك عقل والا دَ دوی دَپاره مختصردلیلونه کافی دی اوعام عقل والودَپاره تفصیل ضروری دے لکه په سورة بقره (۱٦٤) کښ۔

[۱۹۱] په دے کښ پنځه صفات دی(۱) ذکردَ الله تعالی په ولاړے(۲) په ناستے(۳) په ډډه (٤) فکرکول(٥) دعاګانے غوښتل ﴿قِيَامًا وَّقُعُوْدًا﴾ مراد دَ دے نه ذکر الهی همیشه کول دی ځکه چه دَ انسان اکثردغه درے حالتونه وی۔ یامراد دَ ذکر نه مونځ کول دی اودا درے حالتونه په اعتباردَ صحت اومرض سره دی ﴿يَتَفَكَّرُوْنَ﴾ تفکرنه مراد دلیلونه اوحکمتونه راویستل دی ﴿رَبَّنَا مَاخَلَقْتَ﴾ دَ دے په سرکښ یقولون پټ مراد دے اودا نتیجه دَ فکرصحیح ده ﴿فَقِنَا﴾ اشاره ده چه توحید ﴿سُبْحَانَكَ﴾ سبب دے دَبچ کیدلو دَ جهنم نه۔

[۱۹۲] دویمه دُعا ده مقصد ترینه بچ کول دی دَ جهنم نه۔ اشاره ده چه شرك سبب دے دَ خزیان(شرمندګئ په جهنم کښ) اولفظ دَ ظالمین کښ هم مشرکان مراد دی یعنی یا الله مونږ دَ شرك نه بچ اوساتے۔

[۱۹۳] منادی قرآن او نبی ﷺ دے او دَ هغوی خلاصه ایمان اوتوحید دے ﴿سَيِّاٰتِنَا﴾ بدحالت ته وائی کهَ ګناهونه وی او که سختئے وی ﴿تَوَفَّنَا مَعَ الْاَبْرَارِ﴾ په دے کښ مراد طلب دَمرګ نه دے بلکه مراد دا دے

فَاسْتَجَابَ لَهُمْ رَبُّهُمْ اَنِّيْ لَآ اُضِيْعُ عَمَلَ عَامِلٍ مِّنْكُمْ مِّنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى ۚ بَعْضُكُمْ مِّنْ
بَعْضٍ ۚ فَالَّذِيْنَ هَاجَرُوْا وَ اُخْرِجُوْا مِنْ دِيَارِهِمْ وَ اُوْذُوْا فِيْ سَبِيْلِيْ وَ قٰتَلُوْا وَ قُتِلُوْا لَاُكَفِّرَنَّ
عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ وَلَاُدْخِلَنَّهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ثَوَابًا مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ ۗ وَاللّٰهُ عِنْدَهٗ
حُسْنُ الثَّوَابِ ﴿۱۹۵﴾ لَا يَغُرَّنَّكَ تَقَلُّبُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فِي الْبِلَادِ ﴿۱۹۶﴾ مَتَاعٌ قَلِيْلٌ ۫ ثُمَّ مَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ۭ
وَبِئْسَ الْمِهَادُ ﴿۱۹۷﴾ لٰكِنِ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ لَهُمْ جَنّٰتٌ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا نُزُلًا
مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ ۭ وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ خَيْرٌ لِّلْاَبْرَارِ ﴿۱۹۸﴾ وَاِنَّ مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ لَمَنْ يُّؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَمَآ

پس قبول کړے دُعا ګانے دَ دوی رب دَ دوی (ځکه) چه ځه نه برباد ژوم عمل نیك دَ عمل کؤونکی ستاسونه که نارینه وی او که زنانه وی بعضے ستاسو دَ جنس دَ بعضونه دی پس هغه کسان چه هجرت ئے کړے دے او ویستلے شوی دی دَکورونو خپلونه او کړولے شوی دی په لار ځما کښ اوجنګونه ئے کړی دی اووژلے شوی دی خامخا لرے به کړم دَ دوینه بدئے دَ دوی اوخامخا داخل به کړم دوی جنتونوته چه بهیږی لاندے دَ هغے نه ولے، بدله ده دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه اواللّٰه سره خائسته بدلے دی (۱۹۵) دهوکه دِ نکړی تالره تله راتله (ګډوډ) دَکافرانو په ښارونو کښ(۱۹۶)دا فائده ده لږه۔ بیاځائے دَ دوی جهنم دے، اوبد دے ځائے تیارشوے دا جهنم (۱۹۷) لیکن هغه کسان چه ویریږی دَ رب خپل نه دوی لره جنتونه دی بهیږی لاندے دَ هغے نه ولے همیشه به وی په هغے کښ تیاره میلمستیا ده دَ طرف دَ اللّٰه تعالیٰ نه اوهغه څه چه دَ اللّٰه تعالیٰ سره دی غوره دی نیکانو لره (۱۹۸) اویقیناً بعضے دَکتاب والونه ضرور هغه دی چه ایمان لری په اللّٰه تعالیٰ اوپه هغه کتاب

چه مونږپه صحبت دَنیکانو کښ لرے ترمرګ پورے۔ اوپس دَ مرګه نه زمونږ ارواح دَ نیکانوسره په علیین کښ اوساتے۔

[۱۹۴] ﴿اٰتِنَامَاوَعَدْتَّنَا﴾ مراد دا دے چه مونږ حق دار اوګرځوے دَ جنت په آخرت کښ او دَ نصرت په دُنیا کښ اوشفاعت دَ آخرت هم پکښ داخل دے۔

[۱۹۵] یعنی دا دُعا په مخکښ صفاتوسره قبوله ده۔ عمل نه مراد دُعاده یعنی نارینه او زنانه یوجنس دے دواړه انسانان دی نو دُعا دَ دواړو قبلیږی اوبیا پنځه صفات ذکرکوی دَ لویودرجاتو دَحاصلولو دپاره۔

[۱۹۶] داتزهید (بے رغبتی دَ دُنیانه ده) چه دَ کافرانو مالداریٔ او دُنیا دپاره ګرځیدلو باندے خفه مه شئ۔ دَ دوی زړونه پریشانه دی۔ ﴿تَقَلُّبُ﴾، ګرځیدل په طریقه دَ پریشانئے سره۔

[۱۹۷] دا ذکر دَ فنا دَ دُنیا او تخویف اُخروی دے۔

[۱۹۸] دا بشارت (زیرے) دے ﴿نُزُلًا﴾ یعنی دَجنت نعمتونه هروخت دَ میلمستیا په طریقه وی چه په هغے کښ اعزاز واکرام دے ﴿وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ﴾ په دے کښ بے شماره اوغټونعمتونوته اشاره ده۔

أُنْزِلَ إِلَيْكُمْ وَمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِمْ خٰشِعِيْنَ لِلّٰهِ ۙ لَا يَشْتَرُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ثَمَنًا قَلِيْلًا ۭ اُولٰۗىِٕكَ لَهُمْ
اَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ۱۹۹ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اصْبِرُوْا وَصَابِرُوْا وَرَابِطُوْا ۠
وَاتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ۲۰۰

چه نازل کړے شوے دے تاسوته اوهغه کتابونه چه نازل کړے شوی دی دویته عاجزی کؤونکی دی اللّٰه تعالیٰ ته نه اخلی په آیاتونو دَ اللّٰه تعالیٰ عوض لږ(دُنیا) دغه کسان دوی لره ثواب دَ دوی دے په نیز دَ رب دَ دوی، یقیناً اللّٰه تعالیٰ زرحساب کؤونکے دے (۱۹۹) اے ایمان والو: صبرکوئے اووینا دَ صبر کوئے اوتیارے کوئے دَ جهاد او اویریږئے دَ اللّٰه تعالیٰ نه دَ دے دپاره چه کامیاب شئے (۲۰۰)

[۱۹۹] دا دَ عام بشارت نه روستوخاص خلقوته بشارت دے اوصفات دَ حق پرست علماؤ دی ﴿اَجْرُهُمْ﴾ مراد ترینه اجردَ دغه عملونودے اواشاره ده قبولیت دَ عملونو دَ دوی ته اودغه درے صفتونه سبب دے دَپاره دَقبولیت دَ اعمال صالحه۔

[۲۰۰] دا ایت دَ ټول سورة خلاصه ده ﴿اِصْبِرُوْا﴾ کښ رسالت ته اشاره ده۔ صبر کلك والے په سنت دَ نبی ﷺ سره راځی ﴿صَابِرُوْا﴾ کښ اشاره ده جهاد ته دَ دے یومعنیٰ تلقین دَ صبر دے بله معنیٰ دا ده په مقابله دَ دُشمن کښ په صبرکولو کښ غالب شئ ﴿رَابِطُوْا﴾ کښ اشاره ده انفاق فی سبیل اللّٰه ته دَ دے یوه معنیٰ دَاسلام سرحد ساتل دی ﴿وَاتَّقُوااللّٰهَ﴾ کښ توحید مراد دے دا اصول دَ فلاح او دَکامیابئی دی۔ دارنګ اصبرو، کښ اولے حصے دسورة ته اشاره ده یعنی صبرکول په مقابله دَ اعتراضونو کولو دَ نصاریٰ(اهل زیغ)۔ ﴿صَابِرُوْا﴾ کښ دویمے حصے ته اشاره ده یعنی دَ قبائحودَ اهل کتاب مقابله او کړئے ﴿وَرَابِطُوْا﴾ کښ دریمے حصے ته اشاره ده یعنی قوانین دَ نظم دَاتفاق او دعوت باندے ځان کلك کړئے ﴿وَاتَّقُوْا﴾ دَ ځلورمے حصے سره تعلق لری یعنی په هغه خصلتونو عمل او کړئے چه دفع دَهزیمت پرے راځی او دَ قبائحودَ منافقانو اویهودیانونه ځان بچ ساتئے۔

سُوْرَةُ النِّسَآء (۴) مَدَنِيَّة (۹۲) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۱۷۶ رُكُوْعَاتُهَا ۲۴

يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوْا رَبَّكُمُ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ وَّخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيْرًا وَّنِسَآءً ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِيْ تَسَآءَلُوْنَ بِهٖ وَالْاَرْحَامَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيْبًا ①
وَاٰتُوا الْيَتٰمٰٓى اَمْوَالَهُمْ وَلَا تَتَبَدَّلُوا الْخَبِيْثَ بِالطَّيِّبِ ۠ وَلَا تَاْكُلُوْٓا اَمْوَالَهُمْ اِلٰٓى اَمْوَالِكُمْ ۭ اِنَّهٗ كَانَ حُوْبًا كَبِيْرًا ②
وَاِنْ خِفْتُمْ اَلَّا تُقْسِطُوْا فِي الْيَتٰمٰى فَانْكِحُوْا مَا طَابَ لَكُمْ مِّنَ النِّسَآءِ

اے خلقو: اویریږے دَ رب خپل نه هغه ذات چه پیداکړی ئے تاسودَ یونفس نه اوپیدا کړے ده دَ هغه نه بی بی دَ هغه اوخواره کړی دی دَ دواړونه نارینه ډیر او زنانه ډیرے او ویره کوئے دَ اللّٰه تعالیٰ نه هغه ذات چه سوال کوئے دَ هغه نه (اودَپرے کولو) دَ خپل ولئے نه یقیناً اللّٰه تعالیٰ دے په تاسوباندے ساتونکے (۱) او ورکوئے یتیمانو ته مالونه دَ هغوی اومه اخلئے پلیت په بدل دَپاك کښ اومه خورے مالونه دَ هغوی دَ مالونوخپلوسره یقیناً دا دے گناه لوئے (۲) اوکه ویریږئے تاسوچه انصاف به اونه کړئے په باره دَ یتیمانوجینکوکښ پس نکاح کوئے دَ هغے سره چه حلالے وی تاسو لره دَ نورو زنانونه

سورة النسآء

ربط: مخکښ سورتونوکښ دَ ایمان اصول بیان شول نو دے سورة کښ دَ دُنیا ژوند دَپاره اصول دَ امن پیش کوی او دَ ظلمونونه منع کوی او رد کوی په طریقه دَ جاهلیت باندے۔

دعویٰ دَسورة: بیان دَ قوانین دَ امن او دفع دَ ظلم ده۔ اودا په (۱) کښ ذکر ده او دَ ظلم دوه قسمونه دی یوپه حقوق العباد کښ اوبل په حق دَ اللّٰه تعالیٰ کښ چه شرك دے دَ دے وجے نه امرد تقویٰ ئے دوه کرته ذکرکړے دے۔

خلاصه دَ سورة: سورة کښ درے حصے دی په هره حصه کښ درے بابونه دی اوله حصه تر(۵۷) پورے ده په دے کښ اول باب تر(۳۶) پورے دے دے باب کښ اول ترغیب دے تعمیل دَ احکاموته بیا شپاړس احکام دَ تدبیرمنزل دی۔

تفسیر

[۱] دا ترغیب دے ټولو احکامو دَ دے سورة ته چه دَ یومور اوپلارنه پیدایئ نوولے په یوبل باندے ظلم کوئے اویوبل سره خپلولی ولے قطع کوئے۔ اوله تقویٰ نه مراد عقیده صحیح کول دی او دَدویمے تقویٰ نه مراد احکامو باندے عمل کول دی دَ ﴿تَسَآءَلُوْنَ﴾ یومعنیٰ دا ده چه سوال دَ یوبل نه په نامه دَهغه سره کوئے دویمه معنیٰ دا ده چه تاسوسوالونه دَ هغه نه کوئے اوباب دَ تفاعل دپاره دَ ډیروالی دے ﴿وَالْاَرْحَامَ﴾ عطف دے په اللّٰه باندے یعنی اتقوا قطع الارحام یا عطف دے په بهٖ باندے یعنی تاسوسوالونه دَ یوبل نه کوئے په وسیله دَ خپلولئے سره۔

[۲] دا اول حکم دے په اداکولو دَ مالونو دَ یتیمانوسره اومنع ده دَ بدلولودَ مال دَ یتیمانونه دَ خپل مال سره او منع ده دَ مال دَ یتیمانانونه که جداوی یا په ګډون سره وی او رد دے په طریقه دَ جاهلیت باندے چه

مَثْنٰى وَثُلٰثَ وَرُبٰعَ ۚ فَاِنْ خِفْتُمْ اَلَّا تَعْدِلُوْا فَوَاحِدَةً اَوْ مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ ؕ ذٰلِكَ اَدْنٰۤى اَلَّا
تَعُوْلُوْا ۝۳ وَاٰتُوا النِّسَآءَ صَدُقٰتِهِنَّ نِحْلَةً ؕ فَاِنْ طِبْنَ لَكُمْ عَنْ شَیْءٍ مِّنْهُ نَفْسًا فَكُلُوْهُ هَنِیْٓـًٔا
مَّرِیْٓـًٔا ۝۴ وَلَا تُؤْتُوا السُّفَهَآءَ اَمْوَالَكُمُ الَّتِیْ جَعَلَ اللّٰهُ لَكُمْ قِیٰمًا وَّارْزُقُوْهُمْ فِیْهَا وَاكْسُوْهُمْ وَقُوْلُوْا
لَهُمْ قَوْلًا مَّعْرُوْفًا ۝۵ وَابْتَلُوا الْیَتٰمٰى حَتّٰۤى اِذَا بَلَغُوا النِّكَاحَ ۚ فَاِنْ اٰنَسْتُمْ مِّنْهُمْ رُشْدًا فَادْفَعُوْۤا اِلَیْهِمْ
اَمْوَالَهُمْ ۚ وَلَا تَاْكُلُوْهَاۤ اِسْرَافًا وَّبِدَارًا اَنْ یَّكْبَرُوْا ؕ وَمَنْ كَانَ غَنِیًّا فَلْیَسْتَعْفِفْ ۚ وَمَنْ كَانَ فَقِیْرًا

دوه او درے اوخلور پس که ویریږئ تاسوچه انصاف به اونکړئ پس نکاح کوئے دَ یوے سره اویا کذاره کوئے دَ هغه وینځے سره چه مالك وی خی لاسونه ستاسو۔ دادیره نیزدے ده چه ظلم به اونه کړئے(۳) اوورکوئے زنانوته مهرونه دَ هغوی په خوشحالئے سره پس که دوئ په خوشحالئے دَ زړه سره تاسوته دَ هغے نه څه معافی اوکړی پس خورئے هغه په مزے سره بے نقصانه(٤) اومه ورکوئے کم عقلو خلقوته مالونه دَ هغوی (چه تاسوسره وی) هغه چه کرځولے دے اللّٰه تعالیٰ ستاسو دپاره سبب دَ ژوند، اوخرچه ورکوئے دوی له په هغے کښ اوجامه ورکوئے او وائے دویته وینا نیکه(٥) اوآزمائښت کوئے په یتیمانو ترهغے چه کله اورسی وخت دَ نکاح ته پس که معلوم کړوتاسو دَ دوینه هوښیاری پس ورکوئے دوی ته مالونه دَ هغوی اومه خورئے هغه په بے ځایه خرچ کولواوپه جلتئے سره دَ دے ویرے نه چه دوی به لوئے شی او څوك چه وی مالدارپس بچ دِ شی (دَ مال دَیتیم نه) اوخوك چه وی محتاج

مال دَ یتیمانو به ئے په ګلهون سره خورو۔

[۳] دا دویم حکم دے انصاف دَیتیمانوجینکو سره په باره دَنکاح کښ او رد دے په طریقه دَ جاهلیت چه یتیمانو جینکو سره به ئے نکاح کوؤ او دَ هغوی حق به ئے نه ورکوؤ نواللّٰه تعالیٰ حکم اوکړو چه هرکله دَ یتیمانوجینکوسره دَ ظلم نه ویریږئے نو غیردَیتامیٰ نه نوروسره نکاح کوئے اوآیت کښ نورتوجیهات هم شته دے دا ایت دلیل دے په دے خبره چه دَځلورښځونه زیاتے کول ندی جائز ځکه چه په عربئے ژبه کښ دَ رُباع نه په بره عدد نیشته یعنی خماس سداس نه وئیلے کیږی دارنګ بخاری وئیلی دی ﴿اَوْمَامَلَكَتْ اَیْمَانُكُمْ﴾ مراد د دے نه وینځے دی چه خپله مملوکه وی نوبغیرد نکاح نه جائزده۔

[٤] دریم حکم مهرورکول ښځونه ځکه دا دَ هغوی حق دے۔ او رد دے په طریقه دَ جاهلیت باندے چه هغوی مهرد ښځونه منلویائے دَ هغوی نه ئے په زور سره واپس اخستلو ﴿هَنِیْٓـًٔا﴾ هغه طعام دے چه په هغے کښ برکت اوفائدے وی ﴿مَّرِیْٓـًٔا﴾ هغه طعام دے چه فساد دَ معدے نه پیدا کوی۔

[٥] څلورم حکم دَ سفیهانوسره همدردی کول ځکه چه دَ هغوی عقل ضعیف دے او رد دے په جاهلیت والوباندے چه هغوی په سفیهانوباندے په قسما قسم طریقوسره ظلم کولو ﴿اَمْوَالَكُمْ﴾ هغه مالونه چه دَ هغوی دی لیکن ستاسو په حفاظت کښ دی ﴿قِیٰمًا﴾ یعنی مالونه په دُنیا کښ سبب دَ معیشت دے۔

فَلْيَاْكُلْ بِالْمَعْرُوْفِ ؕ فَاِذَا دَفَعْتُمْ اِلَيْهِمْ اَمْوَالَهُمْ فَاَشْهِدُوْا عَلَيْهِمْ ؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ حَسِيْبًا ۝۶ لِلرِّجَالِ
نَصِيْبٌ مِّمَّا تَرَكَ الْوَالِدٰنِ وَالْاَقْرَبُوْنَ ۪ وَلِلنِّسَآءِ نَصِيْبٌ مِّمَّا تَرَكَ الْوَالِدٰنِ وَالْاَقْرَبُوْنَ مِمَّا قَلَّ
مِنْهُ اَوْ كَثُرَ ؕ نَصِيْبًا مَّفْرُوْضًا ۝۷ وَاِذَا حَضَرَ الْقِسْمَةَ اُولُوا الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنُ فَارْزُقُوْهُمْ
مِّنْهُ وَقُوْلُوْا لَهُمْ قَوْلًا مَّعْرُوْفًا ۝۸ وَلْيَخْشَ الَّذِيْنَ لَوْ تَرَكُوْا مِنْ خَلْفِهِمْ ذُرِّيَّةً ضِعٰفًا خَافُوْا
عَلَيْهِمْ ۪ فَلْيَتَّقُوا اللّٰهَ وَلْيَقُوْلُوْا قَوْلًا سَدِيْدًا ۝۹ اِنَّ الَّذِيْنَ يَاْكُلُوْنَ اَمْوَالَ الْيَتٰمٰى ظُلْمًا اِنَّمَا

پس خوراك دِ كوى (دَ هغے نه) په بنهٔ طريقه پس كله چه وركوئے دويته مالونه دَ دوى پس گواهان اونيسئے په دوى باندے اوپوره دے اللّٰه تعالىٰ حساب كؤونكے (٦)دپاره دَ نارينوبرخه ده دَ هغه مال نه چه پريخودلے وى مور اوپلار اوخپلوانو اودپاره دَ زنانو برخه ده دَ هغه مال نه چه پرے خودلے وى مور اوپلار اوخپلوانودَ هغه مال نه چه كم وى يا زيات وى برخه ده مقرركړے شوے (٧) اوكله چه حاضرشى دپاره دَ تقسيم طلب كولو خپلوان اويتيمان اومسكينان، پس خرچه وركړئے دويته دَ هغے نه او وائے دوى ته وينا نرمه (٨) او اوديرپرى (دَظلم كولونه) هغه كسان كه پريږدى هغوى دَځان نه روستواولاد كمزورى ويره كوى په هغوى باندے (دَ ظلم دَ خلقونه) پس اودِيرپرى دَ اللّٰه تعالىٰ او وائى دِ وينا حقه (٩) يقيناً هغه كسان چه خورى مالونه دَ يتيمانوپه ناحقه سره يقيناً

[٦] دا ايت دَ محكمې حكم تتمه ده چه سفهاؤته او يتيمانوته تربيت دَمعاملاتو وركوئے چه مال بربادنه كړى ﴿فَلْيَاْكُلْ بِالْمَعْرُوْفِ﴾ يعنى كله چه متولى فقيرَ يتيم په مال كښ دَ يتيم دَپاره تصرفات كوى نودَخپل كړاؤمناسب مزدورى دِ مال دَ يتيم نه اخلى۔ اودا مزدورى به مناسب وى دَ عرف دَ خلقوسره۔ ﴿فَاِذَا دَفَعْتُمْ﴾ يعنى چه روستودَ بلوغ نه دوى ته مال وركوئے نودَ گواهانوپه محكمے وركوئے۔

[٧] دا پنځم حكم دے حق دَ ميراث نارينه او زنانه دواړو دَپاره دے۔ دا رد دے په ظلم دَ جاهليت چه زنانوله ئے په ميراث كښ حصه نه وركوله۔ اوپه نارينوكښ به ئے وړو اوبوډاګانو اومعذورينوته هم حصه دَ ميراث نه وركوله ﴿نَصِيْبًا مَّفْرُوْضًا﴾ اشاره ده چه حصے دَ ميراث دَ ذوى الفروضو په قرآن او احاديثو كښ پوره مقرر كړے شوى دى۔

[٨] دا شپږم حكم دے مطلب دا دے چه كله بعضے وارثان مسكينان او يتيمان وى اومال دَ ميراث كښ زمكے جائيداد وغيره وى چه دَ هغے تقسيم زرنشى كيدے او دوى تلوار كوى نو متولى له ضرورى ده چه دوى له دَ دوى دَ حاجت موافق دَ هغے نه وركړى او ورته اُوائى چه نور تقسيم به بياكوو اوپوره حصه به تاله روستو دركوؤم هركله چه هغوى حاجت مند دى نودَ هغوى دَحاجت پوره كولودَوجے نه داحكم لازم دے په دے معنىٰ سره ايت منسوخ نه دے ﴿اُولُوا الْقُرْبٰى﴾ مراد دَ دے نه طلب دَ تقسيم دے ﴿اُولُوا الْقُرْبٰى﴾ مراد دَ دے نه هغه دى چه په ميراث كښ دَ هغوى حصے وى۔

[٩] دا تاكيد دَ محكمې حكم دے يعنى دَكمزورو دَ ظلم نه بچ كيدل ضرورى دى۔ اواشاره ده چه په خپل اولاد باندے دَ نورو اولاد قياس كړئے په شفقت كولوكښ۔

يَأْكُلُونَ فِي بُطُونِهِمْ نَارًا ۖ وَسَيَصْلَوْنَ سَعِيرًا ﴿١٠﴾ يُوصِيكُمُ اللَّهُ فِي أَوْلَادِكُمْ ۖ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ
الْأُنْثَيَيْنِ ۚ فَإِنْ كُنَّ نِسَاءً فَوْقَ اثْنَتَيْنِ فَلَهُنَّ ثُلُثَا مَا تَرَكَ ۖ وَإِنْ كَانَتْ وَاحِدَةً فَلَهَا النِّصْفُ ۚ
وَلِأَبَوَيْهِ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا السُّدُسُ مِمَّا تَرَكَ إِنْ كَانَ لَهُ وَلَدٌ ۚ فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ وَلَدٌ وَوَرِثَهُ
أَبَوَاهُ فَلِأُمِّهِ الثُّلُثُ ۚ فَإِنْ كَانَ لَهُ إِخْوَةٌ فَلِأُمِّهِ السُّدُسُ مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصِي بِهَا أَوْ دَيْنٍ ۚ
آبَاؤُكُمْ وَأَبْنَاؤُكُمْ لَا تَدْرُونَ أَيُّهُمْ أَقْرَبُ لَكُمْ نَفْعًا ۚ فَرِيضَةً مِنَ اللَّهِ ۚ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا
حَكِيمًا ﴿١١﴾ وَلَكُمْ نِصْفُ مَا تَرَكَ أَزْوَاجُكُمْ إِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُنَّ وَلَدٌ ۚ فَإِنْ كَانَ لَهُنَّ وَلَدٌ فَلَكُمُ

اچوی په خپلو خپلو کښ اور اوزردے چه داخل به شی دوی اورته (۱۰) مضبوط حکم درکوی تاسوته
الله تعالیٰ په باره دَ میراث دَ اولاد ستاسو کښ۔ نارینه دپاره پشان دَ برخے دَ دۆو زنانودے، پس که دوی
زنانه وی (دوه) (او) زیاتے دَ دۆنه پس دوی لره دوه حصے دی دَ هغه مال چه پرے خودلے وی دهٔ او که
وی یوه لور پس هغے لره نیمه ده اودپاره دَ مور اوپلارد دهٔ هریو لره دَ دے دواړونه شپږمه حصه ده دَ هغے
چه پریخے وی دهٔ که وی هغه لره اولاد پس که نه وی هغه لره هیڅ اولاد او وارث وی دَ دهٔ موراوپلار
پس مور دَ دهٔ لره دریمه حصه ده، پس که وی دهٔ لره رونړه پس موردَ دهٔ لره شپږمه حصه ده روستودَ
پوره کولودَ وصیت نه چه وصیت کوی په هغے سره اودَ اداکولودَ قرض نه، پلاران ستاسو اوځامن
ستاسونه پوهیږئ تاسو چه کوم یودَ دوی زیات نیزدے دے تاسوته په نفع کښ، حصے مقررکړے شوی
دی دَ طرف دَ الله تعالیٰ نه، یقیناً الله پوهه دے حکمت والا دے (۱۱) اوتاسولره نیمه دَ هغه مال نه ده
چه پریخودلے وی ښځوستاسو که چرے نه وی دَ دوی دَپاره هیڅ اولاد پس که وی دَ دوی دپاره اولاد
پس تاسو لره

[۱۰] داویره دَ عذاب اُخروی ده دَپاره دَ ظلم کوۈنکوپه یتیمانوباندے ﴿فِي بُطُونِهِمْ﴾ دالفظ ئے دَ دے
دَپاره راوړلوچه معلومه شی چه دلته مراد دَ اکل نه خوراك کول دی صرف اخستل نه دی یا اشاره ده پیر
خوراك ته چه په مړه خیټه باندے وی۔

[۱۱] دا اووم حکم دے تفصیل دَ حصو دَ میراث په دے ایت کښ شپږ مسئلے دی دَ میراث دَ ولادت،
دریے دَ میراث دَ اولاد اودریے دَ میراث دَمور اوپلار دی په دے کښ دَقرض دَ اداکولو حق مخکښ دے په
وصیت باندے لیکن دَ وصیت دَ اهتمام دَوجے نه وصیت ئے مخکښ ذکرکړے دے ﴿آبَاؤُكُمْ وَأَبْنَاؤُكُمْ﴾
یعنی دا حصے الله تعالیٰ پخپله مقررکړے اومونږته ئے اختیار رانکړه ځکه مونږ پوره نه پوهیږوچه پلار
اوځوی کښ کوم یو ډیرفائده مند دے ﴿فَلِأُمِّهِ السُّدُسُ﴾ دَ ډیرواهل علموپه نیز باقی ټول دَپلار دپاره دے دَ
رونړو دَپاره حصه نیشته اودَ بعضِ اهل عملوپه نیز سدس(باقی) دَرونړودے۔

فائده: په دے ایاتونو کښ چه دَ چاحصے مقرر شوے دی نو هغوی ته ذوی الفروض وائی او دَ دوی نه
چه کومے حصے پاتے شی هغه به دَ عصبه ورڅودَپاره وی چه دَ هغوی ذکرپه احادیثواوفقه کښ دے۔

الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْنَ مِنْۢ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُّوْصِيْنَ بِهَآ اَوْ دَيْنٍ ؕ وَلَهُنَّ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْتُمْ اِنْ لَّمْ يَكُنْ
لَّكُمْ وَلَدٌ ۚ فَاِنْ كَانَ لَكُمْ وَلَدٌ فَلَهُنَّ الثُّمُنُ مِمَّا تَرَكْتُمْ مِّنْۢ بَعْدِ وَصِيَّةٍ تُوْصُوْنَ بِهَآ اَوْ دَيْنٍ ؕ وَ
اِنْ كَانَ رَجُلٌ يُّوْرَثُ كَلٰلَةً اَوِ امْرَاَةٌ وَّلَهٗۤ اَخٌ اَوْ اُخْتٌ فَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا السُّدُسُ ۚ فَاِنْ كَانُوْۤا
اَكْثَرَ مِنْ ذٰلِكَ فَهُمْ شُرَكَآءُ فِي الثُّلُثِ مِنْۢ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُّوْصٰى بِهَآ اَوْ دَيْنٍ ۙ غَيْرَ مُضَآرٍّ ۚ وَصِيَّةً
مِّنَ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَلِيْمٌ ﴿۱۲﴾ تِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ ؕ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ يُدْخِلْهُ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ
تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ وَذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿۱۳﴾ وَمَنْ يَّعْصِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَيَتَعَدَّ حُدُوْدَهٗ يُدْخِلْهُ

څلورمه حصه ده دَ هغه مال نه چه پريخودلے وی دوی روستودَ پوره کولودَ وصيت نه چه وصيت کوی دوی په هغے سره اودَ ادا دَ قرض نه اودَ ښځودپاره څلورمه حصه دَ هغه مال نه چه پرے خودلے وی تاسو که چرے نوی تاسولره څه اولاد، پس که چرے وی ستاسودپاره اولاد، پس ښځوله اتمه حصه ده دَ هغه مال نه چه پريخودلے وی تاسو روستودَ پوره کولودَ وصيت نه چه وصيت کوئے تاسو په هغے سره اودَ ادا دَ قرض نه۔ او که چرے وی سړے چه ميراث ترينه اوړلے مونږوتے ميرات يازنانه داسے وی اودَ هغه دپاره روريا خور وی (دَ مورنه صرف) پس هريولره دَ دے دواړونه شپږمه حصه ده پس که وی دوی زيات دَ دينه پس دوی برابر برخو والا دی په دريمه حصه کښ پس دَ پوره کولودَ وصيت نه چه وصيت کيدے شی په هغے سره اودَ ادا دَ قرض نه۔ نه به يئ ضرر ورکؤونکی (په وصيت سره) دا کلك حکم دے دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه اواللّٰه تعالیٰ پوهه دے صبرناك دے (۱۲)دا (حکمونه) پولے دَ اللّٰه دی، اوچاچه تابعداری اوکړه دَ اللّٰه تعالیٰ اودَ رسول دَ هغه داخل به کړی اللّٰه تعالیٰ دهٔ لره جنتونوته چه بهيږی لاندے دَ هغے نه ولے همیشه به وی دوی په هغے کښ او داکاميابی لويه ده (۱۳) اوچاچه نافرمانی اوکړه دَ اللّٰه تعالیٰ او دَ رسول دَ هغه اوتيرشودَ پولو دَ هغه نه داخل به کړی دے

[۱۲] په دے ايت کښ ميراث دے دَ زوجيت دَ ښځے خاوند متعلق څلور مسئلے دی اودَ کلالة متعلق پنځه مسئلے دی ﴿كَلٰلَةً﴾ هغه ته وائی چه پلار اونيکه ئے نه وی او په اولادکښ ئے هم نارينه نه وی په دواړوطرفونوعاجز وی زورئے نيشته دَ دے وجے نه ورته کلاله وئيلے شی﴿اَخٌ اَوْ اُخْتٌ﴾ رونړه خويندے درے قسمه دی (۱) هغه چه مور اوپلارکښ شريك وی ديته اعيانی وائی (۲) چه پلارکښ شريك وی او ميندے ئے جدا جدا وی ديته علاتی وائی (۳) چه مور کښ شريك وی او پلار ئے جدا جدا وی ديته اخيافی وائی په دے ايت کښ مراد دَ رور خورنه اخيافی دی قول دَ عبداللّٰه بن مسعود په دے کښ شاهد دے هرکله چه دَ دوی رشته صرف دَ زنانه په وجه ده ځکه ئے دَ ميراث دَ زوجيت سره يوځائے ذکرکړه اوپه دے کښ دَنارينه اودَ زنانه حصے دَ ميراث برابردی﴿غَيْرَ مُضَآرٍّ﴾ يعنی وصيت به دَدريمے حصے دَ مال نه زيات نه کوی دارنګ چه ورثه غريبان وی نو وصيت دِنه کوی ديته ضرر وائی۔

[۱۳] دَ تاکيد دَحکم دَميراث دَپاره ئے منونکوته بشارت (زيرے) ذکرکړو اونه منونکوته ئے ويره دَ عذاب اُخروی ذکرکړه احکام الٰهيه ته پولے ځکه وائی چه هغه کښ زياتے او کمے کول منع دی اول فعل

نَارًا خَالِدًا فِيْهَا وَلَهٗ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ﴿۱۴﴾ وَالّٰتِيْ يَاْتِيْنَ الْفَاحِشَةَ مِنْ نِّسَآئِكُمْ فَاسْتَشْهِدُوْا
عَلَيْهِنَّ اَرْبَعَةً مِّنْكُمْ ۚ فَاِنْ شَهِدُوْا فَاَمْسِكُوْهُنَّ فِي الْبُيُوْتِ حَتّٰى يَتَوَفّٰىهُنَّ الْمَوْتُ اَوْ يَجْعَلَ اللّٰهُ
لَهُنَّ سَبِيْلًا ﴿۱۵﴾ وَالَّذٰنِ يَاْتِيٰنِهَا مِنْكُمْ فَاٰذُوْهُمَا ۚ فَاِنْ تَابَا وَاَصْلَحَا فَاَعْرِضُوْا عَنْهُمَا ۭ اِنَّ اللّٰهَ
كَانَ تَوَّابًا رَّحِيْمًا ﴿۱۶﴾ اِنَّمَا التَّوْبَةُ عَلَى اللّٰهِ لِلَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ السُّوْۗءَ بِجَهَالَةٍ ثُمَّ يَتُوْبُوْنَ مِنْ

اورته همیشه به وی په هغے کښ اودهٔ لره عذاب دے شرموونکے (۱۴) اوهغه زنانه چه اوکړی بدکاری دَ زنانوستاسونه، پس گواهان اوغواړئ په دوی باندے څلورڈ نارینو ستاسونه پس که گواهی اوکړه دوی پس حصارے کړئے دوی لره په کورونو کښ تردے چه واخلی دوی لره مرگ یامقرر به کړی الله تعالیٰ دوی لره څه لار(۱۵) او هغه دوه کسان چه اوکړی بدکاری ستاسونه پس زورنه ورکړئے دوی لره پس که دوی توبه اوکړه اونیك ئے کړو عمل پس مخ وارو ئے دَ دوی (زورنے) نه یقیناً الله تعالیٰ دے توبه قبلوونکے رحم والا دے(۱۶) یقیناً (قبول) دَ توبے دَ الله تعالیٰ په نیزهغه چاله دی چه عمل کوی بدٔ په ناپوهئے سره بیاتوبه اوباسی دَ

دَبدعت دے دویم عمل دَفسق دے ﴿وَرَسُوْلَهٗ﴾ په دے کښ اشاره ده چه نور احکام دَ میراث دَ احادیثونه اغستل ضروری دی۔

[۱۴] دا ایت په باره دَ منکرینودَ حکم دَ میراث کښ دے اومنکرکافروی۔اوهغوی ته تخویف اُخروی دے دَ دے وجے نه همیش والے دَعذاب دَ جهنم ئے ذکرکړے دے او صرف منع کوونکے دَتقسیم دَمیراث خوگنهگاردے په گناه کبیره سره لیکن کافرنه دے۔

[۱۵] دا اتم حکم دے بندول دَبدکارئے، اومقصد په دے کښ دَ زنانو حفاظت اوعصمت دے په دے ایت کښ صرف په کورونوکښ دَ ساتلوذکردے دپاره دَ بچ کولودَ بدکارئے نه۔ او دَوهلو یارجم کولو حکم ته انتظار وؤ۔ بیا هغه نازل شو، او دیته نسخ نه وائی۔ لفظ دَ اربعة په تاسره دلالت کوی چه گواهان دَ زنا دَ اثبات صرف سړی کیدیشی ځکه چه په قانون عربی کښ دَمذکردَپاره په اسم عدد کښ تا ذکرکیږی ﴿يَجْعَلَ اللّٰهُ لَهُنَّ سَبِيْلًا﴾ مراد دَ دے نه حد دَ زنادے په غیرشادی شده باندے سل دُرے اویو کال دَپاره شړل اوپه شادی شده باندے رجم کول داسے په صحیح حدیث کښ ذکر دی۔

[۱۶] دے ایت کښ یومراد دا دے چه دوه نارینه بدفعلی اوکړی نودوی له ضرر ورکړئے په ملامت کولو،په زورنه، په وهلو، په قتلولویا په رجم کولو، او دَ وهلو، په نیزدَ بعضِ اهل علموپه دے کارونوکښ هره یوه سزا جائز ده قاضی لره اختیار دے دویم مراد دا دے چه بنځے اوسړی زنا اوکړه پس دوی لره هم زورنه ملامتیا ورکړئے (دَ حد نه علاوه) لیکن چه توبه اوباسی نو بیابه ملامتیا نه ورکوئے اگرچه حدنه معاف کیږی په توبے سره۔

قَرِيْبٍ فَاُولٰٓئِكَ يَتُوْبُ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ ؕ وَ كَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ﴿۱۷﴾ وَلَيْسَتِ التَّوْبَةُ لِلَّذِيْنَ
يَعْمَلُوْنَ السَّيِّاٰتِ ۚ حَتّٰٓى اِذَا حَضَرَ اَحَدَهُمُ الْمَوْتُ قَالَ اِنِّيْ تُبْتُ الْـٰٔنَ وَلَا الَّذِيْنَ يَمُوْتُوْنَ وَهُمْ
كُفَّارٌ ؕ اُولٰٓئِكَ اَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿۱۸﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا يَحِلُّ لَكُمْ اَنْ تَرِثُوا النِّسَآءَ
كَرْهًا ؕ وَلَا تَعْضُلُوْهُنَّ لِتَذْهَبُوْا بِبَعْضِ مَآ اٰتَيْتُمُوْهُنَّ اِلَّآ اَنْ يَّاْتِيْنَ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ ۚ وَ
عَاشِرُوْهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ ۚ فَاِنْ كَرِهْتُمُوْهُنَّ فَعَسٰٓى اَنْ تَكْرَهُوْا شَيْـًٔا وَّ يَجْعَلَ اللّٰهُ فِيْهِ خَيْرًا
كَثِيْرًا ﴿۱۹﴾ وَاِنْ اَرَدْتُّمُ اسْتِبْدَالَ زَوْجٍ مَّكَانَ زَوْجٍ ۙ وَّ اٰتَيْتُمْ اِحْدٰىهُنَّ قِنْطَارًا فَلَا تَاْخُذُوْا مِنْهُ

نیزدے نه پس دغه کسان توبه قبلوی الله تعالی دَ دوی، او دے الله تعالی پوهه حکمتونو والا(۱۷) اونیشته قبلول دَ توبے هغه کسانو لره چه عملونه کوی دَ بدئے ترهغے چه کله نیزدے شی یودَ دوی ته مرګ وائی یقیناً ماتوبه اوکړه اوس اونه ده (توبه) دَهغه کسانوچه مړه کیږی په داسے حال کښ چه دوی کافروی، دغه کسان تیارکړے دے مونږ دوی لره عذاب درد ناك (۱۸) اے ایمان والو: نه دی حلال تاسولره چه وارثان شئے دَ زنانو په زور، اومه تنګوئے دوی لره دپاره دَ دے چه واخلئے بعضے هغه مال(مهر) چه ورکړے دے تاسو دوی له مګر که راتلل اوکړی په بدکارئے بښکاره اوژوند کوئے دَ دوی سره په ښه طریقه پس که بدګنړئے تاسودوی پس کیدے شی چه بدګنړئے تاسوشه شے اوپیدا کړے وی الله تعالی په هغے کښ فائدے ډیرے(۱۹) اوکه غواړئے تاسوبدلول دَ یوښځے په ځائے دَ بلے ښځے اوورکړے وی تاسو یودَ دویته لویه خزانه (مهر) پس مه اخلے دَ دوی نه

[۱۷] داترغیب دے توبے ته په وخت دَهغے کښ، وخت دَهغے دَمرګ نه مخکښ دے دیته قریب وائی﴿بِجَهَالَةٍ﴾ هربدعمل کوؤنکے اګرچه عالم وی لیکن په وخت دَ بدعمل کولوکښ جاهل دے ځکه چه دَ عاقبت نه ناخبره دے۔

[۱۸] دا دوه قسمه توبه نه قبلیږی (۱) په وخت دَ زنکدن کښ(۲) پس دَمرګ نه۔ دَ اول قسم مثال قوم دَ فرعون دے لکه په سوره یونس(۹۰-۹۱) کښ اوداسے په سورة انعام(۱۵۹) کښ ذکردے۔

[۱۹] دا نهم حکم دے رد په جاهلیت باندے چه کله کونډه به پاتے شوه نو نورو ورثوبه په هغے په زور سره نکاح کوؤ یا به ئے په چاخرڅه کړه په زور سره۔ ځکه چه دابه ئے خپل میراث ګنړلو﴿وَلَاتَعْضُلُوْهُنَّ﴾ دا خطاب دے خاوندانوته مطلب دا دے چه یو سړے دِ خپله ښځه په دے مقصد نه تنګوی چه مهر واپس راکړی لیکن چه بدکاری اوکړی نو بیا جائز دی چه په خلع سره ئے پریګدی ﴿وَعَاشِرُوْهُنَّ﴾ داهم خطاب دے خاوندانوته چه ښځوسره ګذاره کوئے، اوکه یوعیب پکښ وی لکه بدخویه وی نو هم ورسره ګذاره پکارده کیدے شی چه الله تعالی اولاد صالح ورکړی۔ اوپه دے کښ اشاره ده چه دَ ښځے حق په خاوند باندے معاشره ده په معروف طریقے سره۔

شَيْـًٔا ؕ اَتَاْخُذُوْنَهٗ بُهْتَانًا وَّ اِثْمًا مُّبِيْنًا ﴿۲۰﴾ وَكَيْفَ تَاْخُذُوْنَهٗ وَقَدْ اَفْضٰى بَعْضُكُمْ اِلٰى بَعْضٍ
وَّ اَخَذْنَ مِنْكُمْ مِّيْثَاقًا غَلِيْظًا ﴿۲۱﴾ وَلَا تَنْكِحُوْا مَا نَكَحَ اٰبَآؤُكُمْ مِّنَ النِّسَآءِ اِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ ؕ
اِنَّهٗ كَانَ فَاحِشَةً وَّمَقْتًا ؕ وَ سَآءَ سَبِيْلًا ﴿۲۲﴾ حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ اُمَّهٰتُكُمْ وَ بَنٰتُكُمْ وَ اَخَوٰتُكُمْ وَ
عَمّٰتُكُمْ وَخٰلٰتُكُمْ وَبَنٰتُ الْاَخِ وَبَنٰتُ الْاُخْتِ وَ اُمَّهٰتُكُمُ الّٰتِيْٓ اَرْضَعْنَكُمْ وَاَخَوٰتُكُمْ مِّنَ الرَّضَاعَةِ
وَاُمَّهٰتُ نِسَآئِكُمْ وَرَبَآئِبُكُمُ الّٰتِيْ فِيْ حُجُوْرِكُمْ مِّنْ نِّسَآئِكُمُ الّٰتِيْ دَخَلْتُمْ بِهِنَّ ز فَاِنْ لَّمْ تَكُوْنُوْا
دَخَلْتُمْ بِهِنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ ز وَحَلَآئِلُ اَبْنَآئِكُمُ الَّذِيْنَ مِنْ اَصْلَابِكُمْ ۙ وَاَنْ تَجْمَعُوْا بَيْنَ الْاُخْتَيْنِ
اِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿۲۳﴾

هیڅ شے ایا اخلئے تاسو دا بدنامه لګوونکے او ګناه کوونکے ښکاره(۲۰)اوخنګه اخلئے تاسو دا اورسیدل کړی دی بعضے ستاسو بعضوته او اغستے دے ښځو ستاسونه لوظ پوخ(۲۱) اونکاح مه کوئے دَ هغه چاسره چه نکاح ورسره کړیوی پلارانو ستاسو دَ زنانۂونه مګرهغه چه مخکے تیر شوی دی یقیناً دا دے ښکاره ګناه اوسبب دَ غضب دَ اللّٰه دے اوبده لاره ده (۲۲) حرام کړے شوے دے پتاسوباندے (نکاح) دَ میندو ستاسواولونړه ستاسو اوخویندے ستاسو اوتروریانے ستاسو اوماشی ګانو ستاسو اورویرے اوخورزے اومیندے ستاسو هغه چه پئے درکړی وی تاسوته اوخویندے ستاسودَ پئے ورکولو دَ وجے نه اومیندے دَ ښځوستاسو (خواځے) اوپرکټئے ستاسوهغه چه په پالنه ستاسوکښ دی دَ ښځوستاسونه هغه چه یوځائے شوی یئ تاسودَ هغوی سره پس که نوے یوځائے شوی دَ هغوی سره پس نیشته ګناه پتاسو باندے اوښځے دَ ځامنو ستاسو (ننګورانے) هغه ځامن چه پیداوی ستاسودَ شاګانونه اوجمع کول دَ دؤو خویندو مګرهغه چه مخکے تیرشوی دی یقیناً اللّٰه تعالیٰ دے بخنه کوونکے رحم کوونکے(۲۳)

[۲۰] دا ایت دَمخکښ حکم سره تعلق لری یعنی بغیرَ خلع نه دَښځونه مهرواپس اخستل غټ ګناه دے ﴿قِنطَارًا﴾ دے لفظ کښ اشاره ده چه دَ مهرَ زیاتوالی دَپاره څه حد نیشته لیکن دَ ریا اوفخرپه طورسره منع دے۔ ﴿بُهْتَاناً وَّاِثْماً مُّبِيْناً﴾ یعنی مهرواپس اغستل خو دلالت کوی چه دغه ښځے بدکاری یا بدخلقی کړیده یا به خالص ظلم کوی۔

[۲۱] په دے ایت کښ دلیل دے چه ښځه خاوند په یوځائے کیدلوسره مهرکامل واجب کیږی۔ اومیثاق، کښ مراد نکاح کول دی۔

[۲۲] دا لسم حکم دے منع دَنکاح دَ میرے مورنه۔ چه جاهلیت کښ داحلال ګنړلے کیدل چه دَهغے ذکرپه ﴿اِلَّامَاقَدْ سَلَفَ﴾ کښ دے۔ (سوال) لَاتَنْكِحُوْا، دَ راتلونکے زمانے دَپاره دے او ماقد سلف دَ تیرے شوے زمانے دَپاره دے نودَ دے استثناء خو صحیح نه ده (جواب) الا په معنیٰ دَلٰکن سره دے استثناء منقطع ده یا په معنیٰ دَ بعد سره دے۔

[۲۳] دا یؤولسم حکم دے تفصیل دَ هغه ښځوچه دَ هغوی سره نکاح همیشه دَپاره حرام وی۔ دا اووه

وَّالْمُحْصَنٰتُ مِنَ النِّسَآءِ اِلَّا مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ ۚ كِتٰبَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ ۚ وَاُحِلَّ لَكُمْ مَّا وَرَآءَ ذٰلِكُمْ اَنْ
تَبْتَغُوْا بِاَمْوَالِكُمْ مُّحْصِنِيْنَ غَيْرَ مُسٰفِحِيْنَ ؕ فَمَا اسْتَمْتَعْتُمْ بِهٖ مِنْهُنَّ فَاٰتُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ فَرِيْضَةً ؕ
وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيْمَا تَرٰضَيْتُمْ بِهٖ مِنْۢ بَعْدِ الْفَرِيْضَةِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ﴿۲۴﴾ وَ
مَنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ مِنْكُمْ طَوْلًا اَنْ يَّنْكِحَ الْمُحْصَنٰتِ الْمُؤْمِنٰتِ فَمِنْ مَّا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ مِّنْ فَتَيٰتِكُمُ
الْمُؤْمِنٰتِ ؕ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِاِيْمَانِكُمْ ؕ بَعْضُكُمْ مِّنْۢ بَعْضٍ ۚ فَانْكِحُوْهُنَّ بِاِذْنِ اَهْلِهِنَّ وَ اٰتُوْهُنَّ
اُجُوْرَهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ مُحْصَنٰتٍ غَيْرَ مُسٰفِحٰتٍ وَّلَا مُتَّخِذٰتِ اَخْدَانٍ ۚ فَاِذَاۤ اُحْصِنَّ فَاِنْ اَتَيْنَ

او(حرام دی) خاوندانو والا ښځے مګر هغه ښځه چه مالك شی خی لاسونه ستاسودَ هغوی حکم دَ الله تعالیٰ فرض کړے شوے دے پتاسو اوحلال کړی دی تاسو لره سیوا دَ دے (ذکرشؤونه) چه طلب کوئے تاسوپه مالونو خپلوسره نکاح کؤونکی یئ نه ئے زناکؤونکی، پس هغه زنانه چه فائده ترینه واخلئے په مهر سره دَ دوینه پس ورکوئے دویته مهرونه دَ دوی مقررکړے شوے اونیشته ګناه په تاسو باندے په هغه مهر کښ چه رضاشئے تاسوپه هغے سره روستودَ مقررنه، یقیناً الله تعالیٰ دے پوهه په هرڅه حکمتونو والا (۲٤) اوڅوك چه نه لری ستاسونه (مالی) طاقت چه نکاح اوکړی دَ آزادو ښځو ایمان دارو سره (پس نکاح دِ اوکړی) دَ هغے سره چه مالك وی خی لاسونه ستاسو دَ وینځوستاسونه ایمان دارے او الله تعالیٰ ښه پوهه دے په ایمان ستاسو بعضے ستاسونه (دَ جنس) دَ بعضونه دی پس نکاح کوئے دَ دوی سره په اجازه دَ مولاګانو دَ دوی اوورکوئے دویته مهرونه دَ دوی په ښه طریقه سره بندے کړے شوے به وی (په نکاح کښ) نه به ښکاره زنا کوی او نه به نیسی پټے دوستانے، پس کله چه دوی سره نکاح اوکړے شی پس که راتله اوکړو دوی

قسمونه نسبی دی او په هغے کښ نیا اونوسے هم داخل دی او دوه سببی دی دَ هغے نه او دوه رضاعی دی لیکن دَحدیث شریف په وجه سره (چه رضاعت په وجه هغه به حرام وی کوم چه دَ نسب په وجه حرام دی) نورے هم حرام دی اوڅلور دَ سخرګنئے دَوجے نه حرام دی دا محرمات اګرچه جاهلیت والامنل، لیکن بعضے به ئے دَ دے نه حلالے ګنړلے هغے ته اشاره ده په اِلَّامَاقَدْ سَلَفَ سره۔

[۲٤] دے ایت کښ څوارلسم قسم زنانه ده چه دَ هغے نکاح ځکه حرام دے چه هغه دَبل چاپه نکاح کښ ده یعنی دَښته نکاح ښځه۔ مګرکه دَ کافرانونه په جهاد کښ یوښځه راولی او دَ هغے خاوند کافر په دارحرب کښ پاتے شی نو دا وینځه تاسوله جائزه ده ځکه چه دَمخکښ خاوند سره نکاح مات شو ﴿اَنْ تَبْتَغُوْا بِاَمْوَالِكُمْ﴾ نه مراد دا دے چه مهرضروری دے دپاره دَ نکاح ﴿اُجُوْرَهُنَّ﴾ مراد دَ دے نه مهردے په نکاح کښ اجرت دَ زنا او دَ متعے په دے کښ داخل نه دے ﴿مُسَافِحِيْنَ﴾ هغه کسان دی چه زنا په اجرت سره کوی ﴿وَلَاجُنَاحَ﴾ مطلب دا دے چه روستو که خاوند مهرزیات کړی یا ښځه خپل مهرکم کړی په رضا سره جائزدی۔

بِفَاحِشَةٍ فَعَلَيْهِنَّ نِصْفُ مَا عَلَى الْمُحْصَنٰتِ مِنَ الْعَذَابِ ؕ ذٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ الْعَنَتَ مِنْكُمْ ؕ وَاَنْ
تَصْبِرُوْا خَيْرٌ لَّكُمْ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۲۵﴾ يُرِيْدُ اللّٰهُ لِيُبَيِّنَ لَكُمْ وَيَهْدِيَكُمْ سُنَنَ الَّذِيْنَ مِنْ
قَبْلِكُمْ وَيَتُوْبَ عَلَيْكُمْ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿۲۶﴾ وَاللّٰهُ يُرِيْدُ اَنْ يَّتُوْبَ عَلَيْكُمْ ۖ وَيُرِيْدُ الَّذِيْنَ يَتَّبِعُوْنَ
الشَّهَوٰتِ اَنْ تَمِيْلُوْا مَيْلًا عَظِيْمًا ﴿۲۷﴾ يُرِيْدُ اللّٰهُ اَنْ يُّخَفِّفَ عَنْكُمْ ۚ وَخُلِقَ الْاِنْسَانُ ضَعِيْفًا ﴿۲۸﴾ يٰۤاَيُّهَا
الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَاْكُلُوْۤا اَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ اِلَّاۤ اَنْ تَكُوْنَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِّنْكُمْ ۣ وَلَا

ع

په بدکارئے پس په دوی باندے نیمه ده دَ هغے نه چه واجب ده په ازادو ښځودَ سزا(حد دَ دُرو وهلو) نه دا نکاح دَ وینځو هغه چاله دے چه ویریږی دَ زنا کولونه ستاسونه اوصبرکول ستاسو (دَنکاح دَ وینځے نه) غوره دی تاسولره او اللّٰه تعالیٰ بخونکے دے رحم کؤونکے دے(۲۵) غواړی اللّٰه تعالیٰ چه بیان اوکړی تاسوته (دَ احکامو خپلو) او اوخائی تاسوته طریقے دَ هغه کسانوچه مخکے ستاسونه ؤو اوبیا رحم اوکړی په تاسو باندے او اللّٰه تعالیٰ پوهه دے حکمت والا دے(۲۶) اواللّٰه تعالیٰ غواړی چه قبولے کړی توبے ستاسو۔اوغواړی هغه خلق چه روان دی دَ نفس په مزوپسے چه کاږه شئے تاسو(دَ حکم دَ اللّٰه نه) په کوږوالی ډیر سره (۲۷) غواړی اللّٰه تعالیٰ چه اسان تیا راولی په تاسوپه خپلوحکمونوکښ او (ځکه چه) پیدا کړے شوے دے انسان کمزورے (۲۸) اے ایمان والو: مه خورئے مالونه دَ یوبل په مینځ ستاسو کښ په ناروا مګرکه وی (دامعامله) تجارت په رضاستاسو۔ اومه

[۲۵] دا حکم دَ مخکښ سره تعلق لری۔ دَایت مطلب دا دے چه نکاح دَوینځے دَ ضرورت وخت کښ کول غوره کاردے نکاح دَهغوی ځکه جائزدے چه په هغوی کښ ایمان شته۔ بله داچه هغوی هم انسانان دی ﴿فَاِذَاۤ اُحْصِنَّ﴾ مطلب دا دے چه دَوینځے واده شوینه که زنا صادرشی نودَ هغے سزاپنځوس دُرے دی اوکه واده ئے نه وی شوے نوبیاهم دا حکم دے په دوی باندے رجم نیشته۔ احصان، نه مراد نکاح دے او ﴿الْمُحْصَنٰتِ﴾ نه مراد حرے (آزادے) ښځے دی۔

[۲۶] دا ترغیب دے تعمیل دَ احکامو تیرشووته په درے طریقو سره (۱) دا احکام واضحه دی(۲) دا طریقے دَ مخکښے تیرشوو نیکانو دی (۳) په دے احکامو په عمل کولو سره مهربانی دَ اللّٰه تعالیٰ کیږی۔

[۲۷] داهم ترغیب دے اوپه دے کښ منع ده دَتابعدارئے دَ هغه چانه چه تابع دَ شهواتودی هغه کافران مشرکان، مبتدعین، فاسقان، ظالمان دی۔

[۲۸] دا هم ترغیب دے چه دَاللّٰه تعالیٰ په احکامو کښ اسانتیاده ﴿وَخُلِقَ الْاِنْسَانُ ضَعِيْفًا﴾ یعنی انسان دَمادے دَخلقت او دَ فطرت په لحاظ کمزورے دے نودَ اللّٰه تعالیٰ احکام دَ دهٗ دَ طاقت مناسب کیخودلے شوی دی۔

تَقْتُلُوْٓا اَنْفُسَكُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيْمًا ﴿۲۹﴾ وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ عُدْوَانًا وَّظُلْمًا فَسَوْفَ نُصْلِيْهِ نَارًا ؕ
وَكَانَ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرًا ﴿۳۰﴾ اِنْ تَجْتَنِبُوْا كَبَآئِرَ مَا تُنْهَوْنَ عَنْهُ نُكَفِّرْ عَنْكُمْ سَيِّاٰتِكُمْ وَنُدْخِلْكُمْ
مُّدْخَلًا كَرِيْمًا ﴿۳۱﴾ وَلَا تَتَمَنَّوْا مَا فَضَّلَ اللّٰهُ بِهٖ بَعْضَكُمْ عَلٰى بَعْضٍ ؕ لِلرِّجَالِ نَصِيْبٌ مِّمَّا اكْتَسَبُوْا ؕ
وَلِلنِّسَآءِ نَصِيْبٌ مِّمَّا اكْتَسَبْنَ ؕ وَسْـَٔلُوا اللّٰهَ مِنْ فَضْلِهٖ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمًا ﴿۳۲﴾ وَلِكُلٍّ
جَعَلْنَا مَوَالِيَ مِمَّا تَرَكَ الْوَالِدٰنِ وَ الْاَقْرَبُوْنَ ؕ وَالَّذِيْنَ عَقَدَتْ اَيْمَانُكُمْ فَاٰتُوْهُمْ نَصِيْبَهُمْ ؕ

وژنئے ځانونه خپل یقیناً اللّٰه تعالیٰ دے په تاسوباندے مهربان (۲۹) اوچاچه اوکړو داکار (خلاف کول د احکامونه) زیاتے کړونکے اوظلم کړونکے (په کمی کولوسره) پس زردے چه داخل به کړو دوی لره اورته او دے داکارپه اللّٰه تعالیٰ باندے آسان(۳۰) که چرته کوئے تاسودَ غټوګناهونو د هغونه چه منع کړے شوی یئ تاسودَ هغے نه نولرے به کړو ستاسونه بدئے ستاسو اوداخل به کړومونږ تاسو ځائے د داخلیدلوعزتمندته (۳۱)اومه غواړئے هغه چه غوره والے ورکړے دے اللّٰه تعالیٰ په هغے سره بعضے ستاسوته په بعضو باندے دپاره د نارینو برخه ده د وجے د هغه عمل نه چه دوی کړے دے اوزنانۂ لره برخه ده د وجے د هغه عمل نه چه دوی کړے دے، اوغواړئے د اللّٰه تعالیٰ نه د فضل د هغه نه یقیناً اللّٰه تعالیٰ دے په هرځیز پوهه (۳۲) اودپاره د هرچا مقررکړی دی مونږ وارثان د هغه مال چه پریخودلے وی مور اوپلار اوخپلوانو۔ اوهغه کسان چه کلك شوی دی قسمونه ستاسوپس ورکوئے دویته برخه د هغوی،

[۲۹] دا دولسم حکم دے متعلق په مال پورے۔ اوقتل د ځان اود یوبل یوخوظاهراً دے، اوبل داچه که تجارت بالکل بندشی یا د یوبل مالونه په باطله طریقه سره خورئ نو دا هم د نفوسو قتل باطن دے۔

[۳۰] دا تخویف اُخروی دے ﴿عُدْوَاناً﴾ د حد نه تیریدل په زیادت کولوسره او ﴿ظُلْماً﴾ نقصان کول په احکامو الٰهیو کښی په تفریط کولو سره۔

[۳۱] دا بشارت دے ﴿كَبَآئِرَ﴾ نه مراد کفراوشرك او د هغه احکامونه خلاف اوانکارکول دی کوم چه دے سورۃ کښی مخکے تیرشول۔ یعنی ګناهونه معاف کیدلوکښی شرط دادے چه د کفراوشرك نه به ځان ساتی اودارنګ اجتناب د ګناه کبیره نه په وخت د قدرت کښی په هغے باندے داهم عمل صالح دے چه سبب دے د معاف والی د ګناه او ﴿مُدْخَلاً كَرِيْماً﴾ نه مراد جنت دے۔

[۳۲] دا دیارلسم حکم دے۔ د یوبل سره د حسد نه منع ده ﴿مِمَّا اكْتَسَبُوْا﴾ مطلب دا دے چه د نارینه مناسب اعمال دی۔ اود زنانومناسب اعمال دی اود عملونود وجے نه مرتبوکښی فرق دے۔ نو دارنګ د عاموانسانانوپه اعمالوکښی د فرق د وجے نه د هغوی په مرتبوکښی فرق دے نود دے فرق په وجے سره د یوبل سره حسدکول جائزنه دی ﴿مِنْ فَضْلِهٖ﴾ من صله د وَسْئَلُوْا ده یا من اجلیه دے۔

إِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدًا ﴿۳۳﴾ اَلرِّجَالُ قَوّٰمُوْنَ عَلَى النِّسَآءِ بِمَا فَضَّلَ اللّٰهُ بَعْضَهُمْ عَلٰى
بَعْضٍ وَّبِمَآ اَنْفَقُوْا مِنْ اَمْوَالِهِمْ ؕ فَالصّٰلِحٰتُ قٰنِتٰتٌ حٰفِظٰتٌ لِّلْغَيْبِ بِمَا حَفِظَ اللّٰهُ ؕ وَالّٰتِيْ
تَخَافُوْنَ نُشُوْزَهُنَّ فَعِظُوْهُنَّ وَاهْجُرُوْهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ وَاضْرِبُوْهُنَّ ۚ فَاِنْ اَطَعْنَكُمْ فَلَا تَبْغُوْا
عَلَيْهِنَّ سَبِيْلًا ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيًّا كَبِيْرًا ﴿۳۴﴾ وَاِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَيْنِهِمَا فَابْعَثُوْا حَكَمًا مِّنْ
اَهْلِهٖ وَحَكَمًا مِّنْ اَهْلِهَا ۚ اِنْ يُّرِيْدَآ اِصْلَاحًا يُّوَفِّقِ اللّٰهُ بَيْنَهُمَا ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيْمًا خَبِيْرًا ﴿۳۵﴾

یقیناً اللّٰه تعالیٰ دے په هرشیز باندے حاضر ناظر(۳۳) نارینه حاکمان دی په ښځو باندے په سبب دَ دے چه غوره والے ورکړے دے اللّٰه تعالیٰ بعضودَ دوی ته په بعضو باندے اوپه سبب دَ دے چه خرچ کوی دَ مالونو خپلونه (په زنانوباندے) پس نیکے زنانه تابعداری کؤونکے وی(دَ اللّٰه اورسول اوخاوند) ساتونکے دی (دَ ځان اودَ مال) په وخت دَ غائب کیدلودَ خاوند په وجه دَ دے چه اللّٰه تعالیٰ دَ دوی ساتنه کړے ده اوهغه زنانه چه ویریږئے تاسودَ بدخوئے دَ هغوی نه پس وعظ کوئے دویته اوجداشئے دَ دوینه په ځائے دَ ځملا ستوکښ اووهے دوی پس که دوی خبره اومنله ستاسوپس مه غواړئے په دوی باندے لار (دَ طلاق) یقیناً اللّٰه تعالیٰ دے بره لوئے (۳۴) اوکه ویریږئے تاسودَ خلاف دَ مینځ دَ دواړونه پس مقررکړئے یوفیصله کؤونکے دَ خپلوانو دَ سړینه اویوفیصله کؤونکے دَ خپلوانودَ ښځے نه که دوی غواړی صلح کول جوړخ به پیداکړی اللّٰه په مینځ دَ دوی کښ یقیناً اللّٰه تعالیٰ دے پوهه خبردار (۳۵)

[۳۳] دا ځوارلسم حکم دے۔مولیٰ دَ موالات۔ یعنی دوستانه ئے کړے وی اولوظ ئیے کړے وی دَ یوبل سره دَتعاون کولو پس ورکړئے حصه دَ دوی یعنی بخښش ورکوئے امدادکوئے میراث کښ برخه ورکول مراد نه دی، موالی جمع دَمولیٰ ده اودَ مولیٰ ډیرے معانی دی دلته مراد دَ هغے وارثان عصبه دی ﴿وَالَّذِيْنَ عَقَدَتْ اَيْمَانُكُمْ﴾ نه مراد مولیٰ دَموالات دے اودَ نصیب، نه مراد بخښش اوامدادکول دی۔

[۳۴] دا پنځلسم حکم دے چه حاکم به نارینه وی دا دلیل دے چه دَ زنانوامارت اوامامت په نارینوباندے منع دے۔ دَ زنانوئیے دوه قسمه بیان کړل۔ صالحات اوناشزات دَ اول قسم ئیے صفتونه بیان کړل اودَ دویم قسم حکم ئے بیان کړو ﴿قَوّٰمُوْنَ﴾ مراد دَ دے نه انتظام دَکارونودَکورنئے دے چه په هغه ټولوکښ دَ سړی اجازت صراحةً یا حکما شرط دے اودَ دے ئے دوه وجے ذکرکړی دی یوفضیلت تکوینی اوشرعی اودویم حاجت دَ زنانه په خرچ کولوکښ نارینه ته ﴿لِلْغَيْبِ﴾ مراد دَ دے نه وخت دَغائب کیدلو دَ خاوند دے او مراد دَ حفاظت نه ساتنه کول دَ خپل ځان او دَ مال او دَ اولاد دَ خاوند دی اودَ نشوزنه مراد نافرمانی کول دَ ښځے دَ حکم دَاللّٰه تعالیٰ یا دَ رسول ﷺ یا دَ خاوند نه دی ﴿سَبِيْلًا﴾ یعنی طلاق دِنه ورکوی۔

[۳۵] دا دَ پنځلسم حکم سره متعلق دے چه دَ ښځے خاوند مینځ کښ صلح کول ضروری دی لیکن شرط دا دے چه دَ صلح کوونکونیت صحیح وی نواللّٰه تعالیٰ به صلح راولی۔ اوپه دے کښ اشاره ده چه په بعضے کارونوکښ دَ انسانانوفیصله کول جائزدی په دے شرط چه دَ شرعے نه خلاف نه وی۔

وَاعْبُدُوا اللّٰهَ وَلَا تُشْرِكُوْا بِهٖ شَيْـًٔا وَّبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا وَّبِذِي الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنِ
وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبٰى وَالْجَارِ الْجُنُبِ وَالصَّاحِبِ بِالْجَنْۢبِ وَابْنِ السَّبِيْلِ ۙ وَمَا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ ؕ
اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ مَنْ كَانَ مُخْتَالًا فَخُوْرًا ۙ﴿۳۶﴾ الَّذِيْنَ يَبْخَلُوْنَ وَيَاْمُرُوْنَ النَّاسَ بِالْبُخْلِ وَ
يَكْتُمُوْنَ مَآ اٰتٰىهُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ ؕ وَاَعْتَدْنَا لِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابًا مُّهِيْنًا ۚ﴿۳۷﴾ وَالَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ
اَمْوَالَهُمْ رِئَآءَ النَّاسِ وَلَا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ؕ وَمَنْ يَّكُنِ الشَّيْطٰنُ لَهٗ قَرِيْنًا
فَسَآءَ قَرِيْنًا ﴿۳۸﴾ وَمَا ذَا عَلَيْهِمْ لَوْ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَاَنْفَقُوْا مِمَّا رَزَقَهُمُ اللّٰهُ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ بِهِمْ
عَلِيْمًا ﴿۳۹﴾ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَظْلِمُ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ ۚ وَاِنْ تَكُ حَسَنَةً يُّضٰعِفْهَا وَيُؤْتِ مِنْ لَّدُنْهُ اَجْرًا

اوبندگی کوئے دَ اللّٰه تعالیٰ اومه شریکوئے دَ هغه سره هیڅ شے اوکوے دَ موراوپلار سره نیکی اودَ رشته
داروسره اویتیمانوسره اودَ مسکینانوسره اوګاونډی خپل (نیزدے) اوګاونډی پردے(لرے) اوملګرے دَ
ډډے اومسافر،اوهغه کسان چه مالك دی خی لاسونه ستاسو یقینا اللّٰه تعالیٰ مینه نه کوی دَ هغه چاسره
چه وی لوئی کڑونکے اوخپله ستائنه کڑونکے (۳۶) دوی هغه خلق دی چه شومتیاکوی اوحکم کوی
خلقوته په شومتیا اوپټوی هغه شے چه ورکړے دے دویته اللّٰه تعالیٰ دَ فضل خپل نه، اوتیارکړے دے مونږ
کافرانولره عذاب شرمؤونکے(۳۷) او دوی هغه کسان دی چه خرچ کوی مالونه خپل دپاره دَ خودنے
دَ خلقو اوایمان نه راوړی په اللّٰه تعالیٰ باندے اونه په ورځ روستنئے اوهغه څوك چه شیطان وی دَ هغه
ملګرے پس بد دے ملګرے (۳۸) اوڅه وبال به وے په دوی باندے که ایمان راوړے وے دوی په اللّٰه تعالیٰ
اوپه ورځ روستنئے اوخرچ کولے دَ هغه نه چه ورکړے دے دویته اللّٰه تعالیٰ اودے اللّٰه تعالیٰ په دوی باندے
پوهه (۳۹) یقیناً اللّٰه تعالیٰ ظلم نه کوی په وزن دَ یوزرے اوکه وی (زره مقدار) نیکی نوزیاتوی اللّٰه
تعالیٰ هغه اوورکوی دَ خپل ځان دَ طرف نه ثواب

[۳۶] دا شپاړلسم حکم دے بیان دَ حق دَ اللّٰه تعالیٰ چه توحید دے اودَ هرقسم شرك نه انکاراوبیان دَ
حقوقودَ بندګانونه نهه قسمونه۔ اودَ دے آیت دَآخرنه دویم باب دَ دے حصے شروع دے تر(۴۳) پورے اوپه
دے کښ زجرونه منافقانوته اودَ هغوی شپږ بدئے ذکرکوی ﴿وَالصَّاحِبِ بِالْجَنْۢبِ﴾ مراد دَ دے نه ملګرے دَ
سفر اوبی بی(ښځه) ده ﴿مُخْتَالًا﴾ هغه دے چه خپل ځان په نوروخلقو باندے لوئے ګڼری او فخور هغه دے
چه خپل صفتونه کوی دَپاره دَ سپك والی دَ نوروخلقو۔

[۳۷] دا زورنه ده منافقانوته، بخل دَ دوی په مال باندے دا دے چه زکوٰة نه اداکوی او په جهاد کښ
خرچ نه کوی، او بخل په علم باندے دا دے چه دَ علم بیان نه کوی۔

[۳۸] دے آیت کښ هم زورنه ده منافقانوته۔ مخکے ئے اوفرمائیل چه دوی بخل کوی یعنی دَ اللّٰه تعالیٰ
دپاره خرچ نه کوی او دلته فرمائی خرچ کوی لیکن دَ ریا دپاره خرچ کوی اودا دَ شیطان په لمسه سره کوی۔

[۳۹] دا دعوت دے اصلاح دَاخلاقواوصحیح انفاق ته۔

عَظِيمًا ﴿٤٠﴾ فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ بِشَهِيدٍ وَجِئْنَا بِكَ عَلَىٰ هَٰؤُلَاءِ شَهِيدًا ﴿٤١﴾ يَوْمَئِذٍ يَوَدُّ
الَّذِينَ كَفَرُوا وَعَصَوُا الرَّسُولَ لَوْ تُسَوَّىٰ بِهِمُ الْأَرْضُ وَلَا يَكْتُمُونَ اللَّهَ حَدِيثًا ﴿٤٢﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ
آمَنُوا لَا تَقْرَبُوا الصَّلَاةَ وَأَنْتُمْ سُكَارَىٰ حَتَّىٰ تَعْلَمُوا مَا تَقُولُونَ وَلَا جُنُبًا إِلَّا عَابِرِي سَبِيلٍ حَتَّىٰ
تَغْتَسِلُوا ۚ وَإِنْ كُنْتُمْ مَرْضَىٰ أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ أَوْ جَاءَ أَحَدٌ مِنْكُمْ مِنَ الْغَائِطِ أَوْ لَامَسْتُمُ النِّسَاءَ فَلَمْ
تَجِدُوا مَاءً فَتَيَمَّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا فَامْسَحُوا بِوُجُوهِكُمْ وَأَيْدِيكُمْ ۗ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَفُوًّا غَفُورًا ﴿٤٣﴾

لوئے (٤٠)پس څنګه به وی حال دَ دوی کله چه راولومونږ دَ هرامت نه بیان کؤونکے اورابه ولوتالره په دوی باندے بیان ورکؤونکے (٤١)په دغه ورځ به ارمان اوکړی هغه کسان چه کفرئے کړے دے اونافرمانی ئے کړے ده دَ رسول نه چه همواره شوے په دوی باندے ځمکه، اونه به شی پټولے دَ اللّٰه نه هیڅ خبره (٤٢) اے ایمان والو: مه نزدے کیږئے مانځه ته اوحال داچه تاسو نشه یئ ترهغے چه پوهیږئے په هغه څه چه وائے تاسو اونه په حال دَجنابت کښ مګرتیریدونکے یئ دَ لارے ترهغے پورے چه غسل اوکړئے اوکه تاسو بیماران یئ یاپه سفر باندے یئ یاراشی یوتن ستاسودَ لوئے حاجت نه یا یوځائے شئے تاسودَ ښځو سره پس نه مومئے تاسو اوبه پس تیمم اوکړئے په خاوره پاکه باندے پس مسحه کړئے مخونه خپل اولاسونه خپل، یقیناً اللّٰه تعالیٰ دے معافی کؤونکے بخنه کؤونکے(٤٣)

[٤٠] دا زیرے دے دَ منونکو دپاره ﴿ذَرَّةٍ﴾ نرے سور میږے یا پلوشے دَ نمر په مخکښ چه کوم بسری ښکاری ﴿لَايَظْلِمُ﴾ یعنی نیك عمل کښ ذره برکمے نه کوی اوپه بدعمل کښ ذره برزیاتے نه کوی ﴿مِنْ لَّدُنْهُ﴾ په دے کښ اشاره ده هغه جزا اوثواب ته چه بغیرد عمل نه اللّٰه تعالیٰ په خپل فضل سره ورکوی۔

[٤١] دا دَ آخرت ویره ورکول دی چه انکارنشئ کولے ځکه چه په تاسو باندے ګواه شته اومراد دَ شهادت نه دا دے چه ګواهی به ورکوی په هغه عملونوچه دَ رسول ﷺ په ژوند کښ ئے دَ هغه په مخکے کړے وی دارنګ په حدیث دَ ابن کثیر کښ نقل دی اوحدیث دَ عرض الاعمال باندے ابن کثیر رد کړے دے۔

[٤٢] داهم دَآخرت ویره ده ﴿كَفَرُوا﴾ هغه خلق دی چه شرك ئے کړے دے او ﴿عَصَوُا﴾ نه مراد هغه خلق دی چه دَ طریقے دَ نبی ﷺ خلاف ئے کړے دے او دا بدعتیان دی۔

[٤٣] دَ ایت ربط دا دے چه دَاحکاموالهیو دَ منلودَپاره دَ بیدارئے اودَ طهارت ضرورت دے دَ دے وجے نه په حال دَ نشه کښ اودَپلیتئی کښ مونځ کول منع دی ﴿إِلَّا عَابِرِي سَبِيلٍ﴾ یعنی که مسافر ئے یاجنب ئے او اوبه نه مومے نوتیمم اوکړئے دویم مطلب دا دے چه مسجدته جنابت کښ مه داخلیږئ لیکن که دَ ضرورت دَ وجے نه تیریږئے نوجائزدے ﴿صَعِيدًا﴾ جنس دَ زمکے دے خاوره وی اوکه شګه وی ﴿حَتَّىٰ تَعْلَمُوا مَا تَقُولُونَ﴾ په دے کښ اشاره ده تعریف دَ نشے ته چه نشه دیته وئیلے شی چه انسان په خپلو خبرو باندے نه پوهیږی۔ اوپه دے کښ حالت دَ جهل هم داخل دے۔

اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ اُوْتُوْا نَصِيْبًا مِّنَ الْكِتٰبِ يَشْتَرُوْنَ الضَّلٰلَةَ وَيُرِيْدُوْنَ اَنْ تَضِلُّوا السَّبِيْلَ ﴿۴۴﴾
وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِاَعْدَآئِكُمْ ؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَلِيًّا ۙ وَّكَفٰى بِاللّٰهِ نَصِيْرًا ﴿۴۵﴾ مِنَ الَّذِيْنَ هَادُوْا يُحَرِّفُوْنَ
الْكَلِمَ عَنْ مَّوَاضِعِهٖ وَيَقُوْلُوْنَ سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا وَاسْمَعْ غَيْرَ مُسْمَعٍ وَّرَاعِنَا لَيًّا بِاَلْسِنَتِهِمْ وَطَعْنًا
فِى الدِّيْنِ ؕ وَلَوْ اَنَّهُمْ قَالُوْا سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا وَاسْمَعْ وَانْظُرْنَا لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ وَاَقْوَمَ ۙ
وَلٰكِنْ لَّعَنَهُمُ اللّٰهُ بِكُفْرِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُوْنَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۴۶﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ اٰمِنُوْا بِمَا
نَزَّلْنَا مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَكُمْ مِّنْ قَبْلِ اَنْ نَّطْمِسَ وُجُوْهًا فَنَرُدَّهَا عَلٰۤى اَدْبَارِهَاۤ اَوْ نَلْعَنَهُمْ كَمَا

ایانه ګورے هغه کسانوته چه ورکړے شوے ده هغوی ته یوه برخه دَ کتاب نه آخلی ګمراهی اوغواړی چه تاسو واړوی دَ سمے لارے نه(٤٤)اوالله تعالیٰ ښه پوهه دے په دُشمنانوستاسو اوپوره دے الله تعالیٰ بچ کؤونکے اوپوره دے الله تعالیٰ مدد ګار (٤٥) بعضے دَ یهودیانونه (داسے خلق دی) چه بدلوی کلمے دَ الله تعالیٰ دَ خپلوځایونونه او وائی دوی واوریده مونږ اونه منو مونږ او واوره نه دِ شے اورولے شوے، اوراعنا تاوهی ژبے خپلے اوعیب لګوی په دین (اسلام) کښ اوکه دوی وئیلے وے واوریدو مونږ اوخبره منو او واوره او اوګوره مونږته خامخا غوره به وے دوی لره اوښه برابربه وے (دَشرع سره) اولیکن لعنت کړے دے په دوی باندے الله تعالیٰ په سبب دَکفردَ دوی پس ایمان نه راوړی مګرلږ کسان (٤٦) اے کتاب والو: ایمان راوړئ په هغه چه نازل کړے دے مونږ رشتنے کؤونکے دے دَ هغه کتاب چه تاسو سره دے مخکے دَ دینه چه روان به کړو مخونه پس اوبه ګرځووهغه په شاګانودَ هغوی، یابه لعنت اوکړو په دوی لکه چه

[٤٤]دَ دے آیت نه تر(٧٥)پورے دریم باب دے اوپدے کښ اُولس بدئ دَکتابیانوذکرکوی اوهغوی ته زورنه ورکوی اوآخرکښ تخویف اوبشارت دے ۔ په دے آیت کښ دَهغوی دوه بدئ ذکرکړی دی(١) ضلالت اغستل(٢) دَ نورو خلقو ګمراه کول۔

[٤٥] یعنی دوی اګرچه ملایان دی لیکن ستاسو دَ دین دُشمنان دی داهم زجردے۔ اوپه دے آیت کښ یوه بدی ذکرده چه دوی دَ مسلمانانودُشمنان دی ﴿وَكَفٰى﴾ دا لفظ صریح دے په توحید کښ چه دَ الله تعالیٰ سره په ولایت اوتصرف کښ بل شریك ته حاجت نیشته۔

[٤٦] داهم زورنه ده۔ تحریف معنوی مراد دے چه معنے بدلوی او دَ هغے نه خپل شرك اوبدعات ثابتوی په ژبه سمعنا وائی اوپه پټه عصینا وائی اوغیرمسمع موهم لفظ دے څوك تاته بده خبره نشی اورولے اوغلطه معنیٰ ئیے داده چه الله تعالیٰ دِتاکونږ کړی یا دِمرشے څکه چه مړے نه اوری۔ اوپه دے آیت کښ ئے دَ دوی شپږ قبائح ذکرکړی دی ﴿اِلَّا قَلِيْلًا﴾ لږ کسان ایمان راوړی یا لږ ایمان راوړی یعنی صرف الله تعالیٰ خالق مالك منی لیکن بیا ورسره شرك کوی دَ رسول اوقرآن نه هم انکارکوی۔

لَعَنَّآ اَصْحٰبَ السَّبْتِ ؕ وَكَانَ اَمْرُ اللّٰهِ مَفْعُوْلًا ﴿۴۷﴾ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَغْفِرُ اَنْ يُّشْرَكَ بِهٖ وَيَغْفِرُ مَا دُوْنَ
ذٰلِكَ لِمَنْ يَّشَآءُ ۚ وَمَنْ يُّشْرِكْ بِاللّٰهِ فَقَدِ افْتَرٰٓى اِثْمًا عَظِيْمًا ﴿۴۸﴾ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ يُزَكُّوْنَ
اَنْفُسَهُمْ ؕ بَلِ اللّٰهُ يُزَكِّيْ مَنْ يَّشَآءُ وَلَا يُظْلَمُوْنَ فَتِيْلًا ﴿۴۹﴾ اُنْظُرْ كَيْفَ يَفْتَرُوْنَ عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ ؕ
وَكَفٰى بِهٖٓ اِثْمًا مُّبِيْنًا ﴿۵۰﴾ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ اُوْتُوْا نَصِيْبًا مِّنَ الْكِتٰبِ يُؤْمِنُوْنَ بِالْجِبْتِ وَالطَّاغُوْتِ ع ۸

لعنت کړے دے مونږ په خالی والو، اودے حکم دَ اللّٰه تعالیٰ پوره کړے شوے (۴۷) یقیناً اللّٰه تعالیٰ نه بخی چه شرك اوکړے شی دَ هغه سره اوبخی هغه ګناهونه چه کم وی دَ دینه هغه چاڅه چه اوغواړی اوچاچه شرك اوکړودَ اللّٰه تعالیٰ سره پس یقیناً جوړئیے کړو ګناه لوئے (۴۸) آیا نګورئ هغه کسانوته چه ستائئے کوی دَ ځانونو خپلو، بلکه اللّٰه تعالیٰ پاکوی چاڅه چه اوغواړی اوظلم به نشی کیدے په دوی په قدردَ تاردَ هلوکی دَ کهجورے (۴۹) اوګوره څنګه جوړوی دوی په اللّٰه تعالیٰ باندے دروغ، اوپوره دی دروغ ګناه ښکاره (۵۰) آیا نګورے هغه کسانوته چه ورکړے شوے ده هغویته یوه برخه دَ کتاب نه یقین کوی په منترو اوپه هرمعبود سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه

[۴۷] داکتابیانوته دعوت دَایمان دے په قرآن کریم اوپدے کښ ویره ورکول دی په عذاب سره په دُنیاکښ۔ اول عذاب داچه مخونه ئے دَ څټ پشانتے شی او دویم عذاب دَ مسخ دے چه اصحاب سبت والوپشان شادوګان شی دائحکه چه یابه ښکاره انکارکوی اودین حق ته به باطل وائی نودَ دے جرم اول قسم عذاب دے او مناسب دے دَ دغه جرم سره یا به په حیلوسره دَ دین شکل مسخ کوی نودَ دے جرم دویم قسم عذاب دے او دَ هغے سره مناسب دے۔

فائده: که سوال اوکړے شی چه بعض کتابیانو خو ایمان راوړے دے اوحال داچه دا عذاب په دوی نه دے راغلے اول جواب دَ دے مطلب دا وؤکه په دوی کښ هیڅا ایمان رانه وړونوداعذابونه به راشی لیکن بعضو چه ایمان راوړونوداعذاب دَ ټولونه پورته شو۔ دویم جواب چه داعذابونه راتلونکی دی دریم جواب دا دے چه دا عذابونه په آخرت کښ دی۔ څلورم داکنایه ده دَ تنزل او دَ ذلت دَ دوینه نه۔

[۴۸] دا دَ سوال جواب دے چه مونږ ایمان والایو مونږ ته ولے دعوت راکوے جواب اوشو چه تاسو شرك کوئے نو دا ایمان خوندے۔

فائده: بغیر دَ توبے نه شرك اوکفرنه معاف کیږی اونورګناهونه که کبیره وی نوپه توبے سره هم اوبغیرد توبے نه په فضل دَ اللّٰه تعالیٰ سره معاف کیږی اوګناهونه صغیره په نیك اعمالوسره هم معاف کیږی اودا مذهب دَ اهل سنت والجماعت دے اودلیل دے چه په کتابیانوکښ شرك وؤ(سوال) په سورة زمر۵۳ کښ دی چه ان اللّٰه یغفر الذنوب جمیعا، (جواب۱) په هغه آیت کښ مؤمنانوته خطاب دے نو دَ هغوی ګناهونه دَ شرك اوکفرنه ښکته دی (جواب۲) هلته مغفرت په توبه سره مراد دے او دلته بغیر دَ توبے نه۔

[۴۹] دا هم دویته زورنه ده دا دلیل دے چه دَ ځان صفتونه کول ناجائز کاردے ﴿يُزَكِّيْ مَنْ يَّشَآءُ﴾ په توفیق دَ عقیدے دَ توحید سره پاکوالے راځی۔ اوپه دے کښ دَ دوی یوقباحت ذکردے۔

[۵۰] داهم دویته زورنه ده۔ او دَ دوی یوقباحت ذکر دے۔ بِهٖ، ضمیر افتراء ته یا الکذب ته راجع دے۔

وَيَقُوْلُوْنَ لِلَّذِيْنَ كَفَرُوْا هٰٓؤُلَآءِ اَهْدٰى مِنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا سَبِيْلًا ﴿۵۱﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ لَعَنَهُمُ
اللّٰهُ ؕ وَمَنْ يَّلْعَنِ اللّٰهُ فَلَنْ تَجِدَ لَهٗ نَصِيْرًا ﴿۵۲﴾ اَمْ لَهُمْ نَصِيْبٌ مِّنَ الْمُلْكِ فَاِذًا لَّا يُؤْتُوْنَ
النَّاسَ نَقِيْرًا ﴿۵۳﴾ اَمْ يَحْسُدُوْنَ النَّاسَ عَلٰى مَآ اٰتٰىهُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ ۚ فَقَدْ اٰتَيْنَآ اٰلَ اِبْرٰهِيْمَ
الْكِتٰبَ وَ الْحِكْمَةَ وَ اٰتَيْنٰهُمْ مُّلْكًا عَظِيْمًا ﴿۵۴﴾ فَمِنْهُمْ مَّنْ اٰمَنَ بِهٖ وَ مِنْهُمْ مَّنْ صَدَّ عَنْهُ ؕ
وَكَفٰى بِجَهَنَّمَ سَعِيْرًا ﴿۵۵﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِنَا سَوْفَ نُصْلِيْهِمْ نَارًا ؕ كُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُوْدُهُمْ

او وائی په باره دَکافرانو کښ چه دوی بنه رسیدونکی دی دَ مؤمنانونه حق لاړے ته (۵۱) دغه کسان دی چه لعنت کړے دے په دوی باندے اللّٰه تعالیٰ اوهغه څوك چه لعنت اوکړی اللّٰه تعالیٰ په هغه پس چرے اوبه نه مومے هغه له مدد ګار(۵۲) آیا شته دوی لره برخه دَ بادشاهئ نه پس دغه وخت (که وی دَ دوی برخه) وربه نکړی خلقوته په قدرد داغ دَ هلپوکی دَکهجورے (۵۳) آیا حسدکوی دوی خلقوسره (ایمان والوسره) په هغه څه چه ورکړے وی اللّٰه تعالیٰ دَ فضل خپل نه، پس یقیناً ورکړی دی مونږ اولاد دَ ابراهیم(علیه السلام) ته کتابونه اوپیغمبری او ورکړے ده مونږهغویته بادشاهی لویه (۵٤) پس بعضے دَ دوینه هغه څوك دی چه ایمان ئے راوړے دے (په دے فضل باندے) اوبعضے هغه دی چه مخ ئے ګرځولے دے دَ دهٔ نه، اوپوره دے جهنم اوربل کړے شوے (۵۵) یقیناً هغه کسان چه کفر ئے کړے دے په آیاتونو څمونږ زردے چه داخل به کړو دوی اورته هروخت چه سټکورے شی څرمنے دَ دوی

[۵۱] دا هم دوی ته زورنه ده چه دَ دوی عقیده دَ شرك وه او مشرکان دَ مؤمنانو نه غوره ګڼری۔ ﴿بِالْجِبْتِ﴾ جبت، سحر او منترته وائی، اوهرمعبود ماسیوا دَاللّٰه ته هم وائی او ﴿وَالطَّاغُوْتِ﴾ طاغوت هغه شیطان ته وائی چه دَ دوی په معبودانو کښ ننوتواو دَ دوی سره به ئے خبرے کولے اوهرمعبودماسوىٰ اللّٰه ته هم وائی۔ اوپه دے آیت کښ ئے دَ دوی دوه بدئے ذکرکړی دی۔

[۵۲] دا تخویف دے په عذاب سره۔ اوپه دے کښ دَ دوی یوه بدی(لعنت) ذکردے اولئك کښ اشاره ده چه دا مخکے ذکرشوی کارونه سبب دَ لعنت دے۔

[۵۳] هرکله چه دَ دوی نه په سبب دَ دے مخکے قبائحوسره نبوت اوبادشاهی نقل کړے شول نود وی په هغے باندے ډیره ناراضګی کوله نوپه دے آیت کښ دَ هغے دپاره بل سبب ئے ذکرکړواو زجرئے ورکړواو یو قباحت ئے دَ دوی ذکرکړو چه بخل دے۔

[۵٤] حسد دا دے چه ارمان کوی دَ زوال دَ نعمت دَبل چا اوداحرام دے۔ غبطه، ارمان کول دَمثل دَحال دَ غیردَځان دَپاره۔ حدیث شریف کښ راځی چه غبطه دوؤ کسانو سره جائز ده۔ یو عالم دَقرآن باعمل دویم مال په صحیح مصارفو کښ خرچ کوؤنکے۔ مطلب دَآیت دا دے چه په اولاد دَابراهیم علیه السلام باندے دانعمتونه اللّٰه تعالیٰ کړی دی نو د اپیغمبرهم دَ هغه دَ اولادنه دے نودهٔ سره ولے حسدکوئے ﴿اٰتَيْنَاهُمْ مُّلْكاً عَظِيْماً﴾ اشاره ده بادشاهئے دَ داؤد او سلیمان علیهما السلام ته اوپه دے آیت کښ دَ دوی یو قباحت ذکردے۔

[۵۵] دا زورنه او تخویف اُخروی دے۔ اواشاره ده چه په دوی کښ دوه لوئے ډلے جوړے شوی دی

بَدَّلْنٰهُمْ جُلُوْدًا غَيْرَهَا لِيَذُوْقُوا الْعَذَابَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَزِيْزًا حَكِيْمًا ﴿۵۶﴾ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا
الصّٰلِحٰتِ سَنُدْخِلُهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ؕ لَهُمْ فِيْهَآ اَزْوَاجٌ
مُّطَهَّرَةٌ ۫ وَّنُدْخِلُهُمْ ظِلًّا ظَلِيْلًا ﴿۵۷﴾ اِنَّ اللّٰهَ يَاْمُرُكُمْ اَنْ تُؤَدُّوا الْاَمٰنٰتِ اِلٰٓى اَهْلِهَا ۙ وَاِذَا
حَكَمْتُمْ بَيْنَ النَّاسِ اَنْ تَحْكُمُوْا بِالْعَدْلِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ نِعِمَّا يَعِظُكُمْ بِهٖ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ سَمِيْعًا
بَصِيْرًا ﴿۵۸﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ وَاُولِي الْاَمْرِ مِنْكُمْ ۚ فَاِنْ تَنَازَعْتُمْ
فِيْ شَيْءٍ فَرُدُّوْهُ اِلَى اللّٰهِ وَالرَّسُوْلِ اِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ؕ ذٰلِكَ خَيْرٌ وَّ

بدلے به کړودوی له څرمنے نورے دپاره دَ دے چه اوځکی دوی عذاب، یقیناً الله تعالی دے زور آورحکمتونو والا(۵۶) اوهغه کسان چه ایمان ئے راوړے اوعمل ئے کړے دے په طریقه دَ نبی(ﷺ) زردے داخل به کړو مونږ دوی جنتونوته چه بهیږی به لاندے دَ هغے نه ولے همیشه به وی دوی په هغے کښ همیشه، دوی دپاره په هغے کښ دی بیبیانے پاکے او داخل به کړو دوی سوری همیشه ته (۵۷) یقیناً الله تعالی حکم کوی تاسوته چه اداکوئے حقونه حقدارودَ هغے ته اوکله چه فیصله کوئے په مینځ دَ خلقوکښ چه فیصله کوئے په انصاف سره، یقیناً الله تعالی ډیر ښه وعظ درکوی تاسوته دَ دے۔ یقیناً الله تعالی دے آوریدونکے لیدونکے (۵۸) اے ایمان والو: حکم منئ دَ الله تعالی اوحکم منئ دَ رسول(ﷺ) اودَ حاکمانو ستاسونه، پس که اختلاف اوکړو تاسو په یو شی کښ پس اوګرځوئے (فیصله دَ هغے) الله اورسول ته که تاسو ایمان لرئے په الله تعالی اوپه ورځ دَ قیامت (روستنئے) داکارغوره دے او

﴿صَدَّ﴾ لازمی اومتعدی دواړه استعمالیږی دلته غوره دا ده چه لازمی دے۔

[۵۶] دا ویره دَ عذاب دَ اخرت ده یعنی په جهنم کښ دَ څرمن دَ سوزولو او بیا دَ ټوکولوطاقت الله تعالی ایخے دے او مطلب دا دے چه هرکله څرمن اوسوزی نو بیابه هغه تازه شی بله څرمنه نه ورکوی۔ او دیته تبدیل وصفی وائی، او هرکله چه څرمن تازه شی نوتنکئے وی اوپه هغے باندے درد زیات وی۔

[۵۷] دا زیږے اُخروی دے ﴿ظِلًّا ظَلِيْلًا﴾ همیشه سورے اشاره ده همیشه آرام ته چه هیڅ ګرمی او دهوپ به نه وی یا اشاره ده ډیرو ګنړو اونوته چه سوری به کوی۔

[۵۸] دَ دے ایت نه تر(۱۳٤) پورے دویمه حصه ده او په دے کښ سیاست مدنیه (دَ بادشاه او دَ قوم تعلق دَپاره دَ امن) ذکردے اوپه دے کښ درے بابونه دی اول باب تر(۷٦)پورے دے په دے کښ درے احکام دَ سیاست دی او منافقانوته زجرونه دی۔ په دے کښ اول حکم دے۔ دَ ایت مطلب دا دے چه هرحق امانت دے، امارت، امامت، قضاء، تدریس، دعوت وغیره حقدارونه پوره ورکول غواړی اوفیصلے په عدل سره دا دی چه په قرآن اوپه سنت سره فیصلے کوی۔ اوپه دے آیت کښ خطاب دے اولی الامرته یا عامو مسلمانانوته اوپه آیت کښ دلیل دے چه حکم په عدل سره هله پوره کیدیشی چه امیری قضا وغیره دَ هغے حقدارونه ورکړے شوے وی۔

اَحْسَنُ تَاْوِيْلًا ﴿۵۹﴾ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ يَزْعُمُوْنَ اَنَّهُمْ اٰمَنُوْا بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ وَمَآ اُنْزِلَ مِنْ
قَبْلِكَ يُرِيْدُوْنَ اَنْ يَّتَحَاكَمُوْٓا اِلَى الطَّاغُوْتِ وَقَدْ اُمِرُوْٓا اَنْ يَّكْفُرُوْا بِهٖ ؕ وَيُرِيْدُ الشَّيْطٰنُ
اَنْ يُّضِلَّهُمْ ضَلٰلًا بَعِيْدًا ﴿۶۰﴾ وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ تَعَالَوْا اِلٰى مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ وَاِلَى الرَّسُوْلِ رَاَيْتَ
الْمُنٰفِقِيْنَ يَصُدُّوْنَ عَنْكَ صُدُوْدًا ﴿۶۱﴾ فَكَيْفَ اِذَآ اَصَابَتْهُمْ مُّصِيْبَةٌۢ بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْهِمْ ثُمَّ
جَآءُوْكَ يَحْلِفُوْنَ ۖ بِاللّٰهِ اِنْ اَرَدْنَآ اِلَّآ اِحْسَانًا وَّتَوْفِيْقًا ﴿۶۲﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ يَعْلَمُ اللّٰهُ مَا فِيْ

خائسته انجام والادے (۵۹) آیا نګورئے هغه کسانوته چه دعویٰ کوی چه دوی ایمان راوړے دے په هغه څه چه نازل کړے شوے دے تاته اوپه هغه کتابونو چه نازل کړے شوی دی مخکے ستانه، غواړی چه فیصلے یوسی سرکش ته اویقیناً حکم کړے شوے دے چه دوی دِ انکارکوی دَ فیصلے دَ هغه نه، اوغواړی شیطان چه ګمراه کړی دوی لره په ګمراهئ لرے سره (۶۰) اوکله چه اُوئیلے شی دویته راشئے هغه کتاب ته چه نازل کړے دے اللّٰه تعالیٰ او رسول ته وینے ته منافقان چه اوړی ستانه په اوړیدلو(۶۱) پس څنګه حال به وی کله چه اورسیږی دویته څه مصیبت په وجه دَ هغه عملونو چه مخکے لیږلی دی لاسونودَ دوی بیا راشی دوی تاته قسم کوی دوی په اللّٰه تعالیٰ چه مونږ ارادِه نه ده کړے مګردَ جوړخ (په مینځ دَ دواړو کښ)(۶۲) داهغه کسان دی چه پوهه دے اللّٰه تعالیٰ په هغه څه چه

[۵۹] دَ امیردَ حکم نه بعد رعیت ته حکم دے دَ تابعدارئے ﴿اُولِی الْاَمْرِ﴾ نه مراد حاکمان اوعلماء مجتهدین دی لیکن دَ دوی اطاعت دَ اللّٰه تعالیٰ او دَ رسول په اطاعت کښ داخل دے دَ دے وجے نه دوی سره ئے جدا اطیعوا نه دے وئیلے نودَ دوی اطاعت مطلق نه دے ﴿فَاِنْ تَنَازَعْتُمْ﴾ ابن کثیر وئیلی دی چه دا ټولو مسلمانانوته خطاب دے او مقصد دا دے چه کله دَ یوحاکم یا عالم مجتهد حکم تاسوته بے دلیله معلوم شی نواختلاف مه جوړوئے بلکه په قرآن اوحدیث باندے فیصله کوئے۔ دَ دے آیت نه اثبات دَ تقلید نه کیږی بلکه دَ تقلید شخصی(جامد) تردید دے۔

[۶۰] دے ایاتونوکښ زورنه ده منافقانوته په فیصله اوړلوغیردَکتاب او دَ سنت ته او دَ هغوی پنځه قبائح ذکرکوی۔ طاغوت، نه مراد پدے ځائے کښ هغه شخص یا هغه قانون اوکتاب دے چه دَقرآن اوسنت نه خلاف وی۔ په دے آیت کښ دَ منافقانودرے حالات قبیحه ذکرشویدی۔

[۶۱] دا زورنه ده په مخ ګرځولوسره دَ فیصلے دَ قرآن اودَ سنت نه۔ اوپه دے کښ اشاره ده حال دَجامد مقلدینوته چه دوی هم منافقان دی۔ اوپه دے کښ دَ منافقانوخلورم وصف ذکردے۔

[۶۲] دا هم زورنه ده منافقانوته اواشاره ده چه دَ قرآن اوسنت نه په اعراض کولوسره په دُنیاکښ هم مصیبتونه رسیږی۔ په دے کښ دَمنافقانوپنځم وصف ذکردے ﴿اِنْ اَرَدْنَآ اِلَّآ اِحْسَانًا﴾ یعنی فیصلے دَ قرآن اوسنت نه خلاف کوی اودعوے کوی چه په دے کښ جوړخ اواصلاح ده لکه چه اوس چه په دے ملك کښ قانون دَانګریزباندے فیصلے کیږی اوجاهل خلق دَهغے تعریف کوی۔

قُلُوْبِهِمْ ۙ فَاَعْرِضْ عَنْهُمْ وَعِظْهُمْ وَقُلْ لَّهُمْ فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ قَوْلًا بَلِيْغًا ﴿۶۳﴾ وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا
لِيُطَاعَ بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ وَلَوْ اَنَّهُمْ اِذْ ظَّلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ جَآءُوْكَ فَاسْتَغْفَرُوا اللّٰهَ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُوْلُ
لَوَجَدُوا اللّٰهَ تَوَّابًا رَّحِيْمًا ﴿۶۴﴾ فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُوْنَ حَتّٰى يُحَكِّمُوْكَ فِيْمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوْا فِيْٓ
اَنْفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا ﴿۶۵﴾ وَلَوْ اَنَّا كَتَبْنَا عَلَيْهِمْ اَنِ اقْتُلُوْٓا اَنْفُسَكُمْ اَوِ اخْرُجُوْا مِنْ
دِيَارِكُمْ مَّا فَعَلُوْهُ اِلَّا قَلِيْلٌ مِّنْهُمْ ؕ وَلَوْ اَنَّهُمْ فَعَلُوْا مَا يُوْعَظُوْنَ بِهٖ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ وَاَشَدَّ

په زړونو دَ دوی کښ دی پس مخ واړه دَ دوینه او وعظ کوه دویته او وایه دویته په حق دَ ځانونودَ دوی کښ وینا اثر ناکه(٦٣)اونه دے لیګلے مونږ هیڅ رسول مګر دپاره دَ دے چه تابعداری اوکړے شی دَ هغه په حکم دَ اللّٰه تعالیٰ۔ اوکه دے خلقو کوم وخت چه ظلم اوکړو په ځانونو خپلو راغلے وے تاته پس بخته غوښتے وے دَ اللّٰه تعالیٰ نه اویخنه غوښتے وے دوی لره رسول(ﷺ) ضرور موندلے به ؤو دوی اللّٰه لره توبه قبلوونکے رحم کؤونکے (٦٤) پس داسے نده قسم دے ستاپه رب باندے نشی مؤمنان کیدے ترهغے چه فیصله اوکړی په تاباندے په هغه معامله کښ چه پیداشوے وی په مینځ دَ دوی کښ بیانه مومی دوی پخپلو زړونو کښ خفګان دَ هغے فیصلے نه چه تاکړے وی اومنی ستا فیصله همیشه منل(٦٥) اوکه چرے فرض کړے وے مونږ په دوی باندے (په اطاعت دَ رسول کښ) چه اووژنئ ځانونه خپل یا اوځئے دَکورونو خپلونه نه به ؤوکړے داکارمګر لږکسانودَ دوی نه، اوکه چرے دوی کړے وے هغه کارچه وعظ کیږی دویته په هغے سره ضرور ؤو به غوره دوی لره اوښه

[٦٣] ﴿فَاَعْرِضْ عَنْهُمْ﴾ اعراض نه مراد دا دے چه که دوی منافقت کوی نو پرواه ئے مه کوه خودَ منافقت دَ صفاتونه ئے منع کوه اودا مراد دَ وعظ دے اوقول بلیغ، نه په دلیلونو اوترغیباتوسره مؤثر وعظ کول مراد دی۔

[٦٤] دَ دے ایت نه تر(٧٠) پورے ټول ترغیبات دی په اطاعت رسول باندے او دَ هغے فائدے ذکرکوی۔ دَ رسول دَ رسالت نه مقصد دَ هغه تابعداری کول دی۔ افراط به نه کیږی هغے ته به دَ اللّٰه صفت نه ورکوی اوتفریط دِ نکوی دَ هغه دَ حکم نه خلاف دِ نکوی۔

فائده: دا ایت په هغه منافقانوپورے خاص دے چه مدینه منوره کښ وؤ دَ رسول اللّٰه ﷺ په ژوند کښ په دلیل دَ ضمیر ونوچه دَ خاص ذات دَپاره دی اوپه دلیل دَ جَآءُوْكَ، ځکه چه جَآءُوْكَ ئے نه دے وئیلے اوبل دلیل اجماع دَ صحابه کرامو چه هغوی په هیڅ حاجت کښ قبر دَ رسول اللّٰه ﷺ ته نه دی راغلی اونه دَ قبر دَ هغه نه دُعا طلب کړے ده۔ او واقعه دَ باندچی چه روایت کړے شوے ده نو هغه موضوعی روایت دے کتاب الصارم المنکی تفصیل لیکلے دے هاں سفارش کول په ورځ دَ قیامت په اذن دَ اللّٰه تعالیٰ سره دا دَ اهل سنت صحیح عقیده ده۔

[٦٥] ﴿فَلَا﴾ مراد دا دے چه داسے نه ده کوم چه دَ منافقانو خیال دے چه دَ پیغمبر فیصله نه منی او دَ ایمان دعویٰ کوی۔ دے ایت کښ دَ ایمان درے شرطونه ئے ذکرکړی دی(١) فیصله په پیغمبر او دَ هغه په طریقه(سنت) باندے (٢) په هغے باندے خفګان نه کول بلکه خوشحالی کول (٣) ټولے فیصلے اوټول

تَثْبِيْتًا ﴿٦٦﴾ وَّاِذًا لَّاٰتَيْنٰهُمْ مِّنْ لَّدُنَّآ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿٦٧﴾ وَّلَهَدَيْنٰهُمْ صِرَاطًا مُّسْتَقِيْمًا ﴿٦٨﴾ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ
وَالرَّسُوْلَ فَاُولٰٓئِكَ مَعَ الَّذِيْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِّنَ النَّبِيّٖنَ وَالصِّدِّيْقِيْنَ وَالشُّهَدَآءِ وَالصّٰلِحِيْنَ ۚ
وَحَسُنَ اُولٰٓئِكَ رَفِيْقًا ﴿٦٩﴾ ذٰلِكَ الْفَضْلُ مِنَ اللّٰهِ ؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ عَلِيْمًا ﴿٧٠﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا خُذُوْا
حِذْرَكُمْ فَانْفِرُوْا ثُبَاتٍ اَوِ انْفِرُوْا جَمِيْعًا ﴿٧١﴾ وَاِنَّ مِنْكُمْ لَمَنْ لَّيُبَطِّئَنَّ ۚ فَاِنْ اَصَابَتْكُمْ مُّصِيْبَةٌ قَالَ

کلکونکے (د ایمان) (٦٦) اودغه وخت خامخا ورکړے به ؤمونږ دوی ته د طرف خپل نه ثواب لوئے (٦٧) اوخامخا پاخه کړی به وے مونږ دوی لره په لاره نیغه (سیده) باندے (٦٨) اوچاچه تابعداری اوکړه د الله تعالیٰ اود رسول پس دغه خلق به ملګری وی د هغه کسانو سره چه انعام کړے دے الله تعالیٰ په هغوی باندے چه پیغمبران دی اوزیات رشتینی دی اوشهیدان دی اونیکان دی اوخه دی دوی په ملګرتیا کښ(٦٩) دا فضل دے د الله تعالیٰ د طرف نه اوپوره دے الله تعالیٰ پوهه په هرخه باندے۔ (٧٠) اے ایمان والو! تیار اوساتئے سامان د بچاؤ خپل پس اُوځئ ډلے ډلے یااوځئ په یوځائے (٧١) اویقیناً بعضے ستاسونه خامخا هغه دی چه روستو کیږی پس که اورسیږی تاسوته څه مصیبت وائی دے

حکمونه د هغه په زړه سره منل ﴿فِيْمَا شَجَرَبَيْنَهُمْ﴾ مراد د دے ټول اختلافات اوجګړے دی که دُنیوی دی اوکه دینی دی او ﴿يُسَلِّمُوْا﴾ مستقبل کښ اشاره ده چه ترمرګه پورے په تسلیم د نبی ﷺ باندے پوخ اوکلك وی۔

[٦٨،٦٧،٦٦] د اول نه زورنه ده منافقانوته چه په اطاعت رسول کښ شهید کیدل اوهجرت کول صحابه کرامو کړی دی په تاسو باندے داسے سخت امتحان تراوسه پورے نه دے راغلے۔ د ایت آخرکښ ترغیب دے اطاعت رسول ﷺ ته او د هغے پنځه فائدے ئے تر(٧٠) بیان کړی دی خیر، اشد تثبیت، اجرعظیم، صراط مستقیم، معیت د منعم علیهم۔

[٦٩] دا څلورواړه صفات د پیغمبرانو دی او هغوی منعم علیهم دی هر پیغمبر صدیق هم دے۔ شهید دے په اُمت خپل، اوصالح هم دے۔ داصفات دَهغوی په مختلف ایاتونوکښ راغلی دی۔ دویم مطلب دا دے چه دا څلورډلے جدا جدا دی۔﴿الصِّدِّيْقِيْنَ﴾ درجه دَابوبکر ﷺ ته اشاره ده ﴿الشُّهَدَآءِ﴾ عمر ﷺ عثمان ﷺ علی ﷺ اونورو شهیدانوصحابوته اشاره ده او﴿الصّٰلِحِيْنَ﴾ ټولو باقی صحابوته اشاره ده۔ نو منعم علیهم پیغمبران اواصحاب دی۔

[٧١] دادویم حکم د سیاست دے۔یعنی بادشاه اورعیت له پکاردی چه دَجهاد په نیت تیارے اوکړی نوکله جهاد فرض کفایه وی هغے ته اشاره ده په ثبات سره اوکله جهاد فرض عین وی هغے ته اشاره ده په جمیعاسره ﴿حِذْرَكُمْ﴾ مراد د دے نه اسباب دَبچاؤ دی اسلحه دَهرے زمانے مطابق، بمونه اومیزائل وغیره پکښ داخل دی اود هغے دَاستعمال طریقے ایزده کول هم۔

قَدْ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيَّ اِذْ لَمْ اَكُنْ مَّعَهُمْ شَهِيْدًا ﴿۷۲﴾ وَلَئِنْ اَصَابَكُمْ فَضْلٌ مِّنَ اللّٰهِ لَيَقُوْلَنَّ كَاَنْ لَّمْ
تَكُنْۢ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهٗ مَوَدَّةٌ يّٰلَيْتَنِيْ كُنْتُ مَعَهُمْ فَاَفُوْزَ فَوْزًا عَظِيْمًا ﴿۷۳﴾ فَلْيُقَاتِلْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ
الَّذِيْنَ يَشْرُوْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا بِالْاٰخِرَةِ ؕ وَمَنْ يُّقَاتِلْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَيُقْتَلْ اَوْ يَغْلِبْ فَسَوْفَ
نُؤْتِيْهِ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿۷۴﴾ وَمَا لَكُمْ لَا تُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَالْمُسْتَضْعَفِيْنَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَآءِ وَ
الْوِلْدَانِ الَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَآ اَخْرِجْنَا مِنْ هٰذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ اَهْلُهَا ۚ وَاجْعَلْ لَّنَا مِنْ لَّدُنْكَ
وَلِيًّا ۙ وَّاجْعَلْ لَّنَا مِنْ لَّدُنْكَ نَصِيْرًا ﴿۷۵﴾ اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۚ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا

یقیناً انعام کړے ؤ واللّٰه تعالیٰ په ما باندے کوم وخت چه نه ؤوم د دوی سره حاضر(۷۲) او که اورسیږی تاسوته فضل د اللّٰه تعالیٰ د طرف نه خامخا وائی ګویا که نه وه په مینځ ستاسو اودَ دهٔ کښ دوستانه هائے ارمان دے چه ځه وے د دوی سره پس کامیاب شوے به وے په کامیابئے لویه(۷۳) پس جنګ دِ کوی په لارد اللّٰه تعالیٰ کښ هغه کسان چه خرڅوی (قربان کوی) ژوند دُنیوی په آخرت باندے اوچاچه جنګ اوکړوپه لارد اللّٰه تعالیٰ کښ پس اووژلے شی یازورآورشی پس زر دے وربه کړو مونږ ورته ثواب لوئے (۷٤) اوځه عذردے ستاسوچه جنګ نه کوئے په لارد اللّٰه تعالیٰ کښ (اودپاره د خلاصولو) د کمزورو د نارینونه او زنانه او واړه بچی هغه چه وائی: اے ربه ځمونږ اوباسے مونږ د دے کلی نه چه ظالمان دی اوسیدونکی د دے اومقررکړه مونږ لره د خپل طرف نه دوست (بچ کوونکے) اومقررکړه مونږ لره د خپل طرف نه امدادی (۷۵) مؤمنان جنګ کوی په لارد اللّٰه تعالیٰ کښ، او کافران

[۷۲] دا دوه ایتونه زورنه ده منافقینوته۔ په پریخودلودَ تیارئے دَآلاتودَ جهاد کولواوپه دے کښ د منافقانودوه قباحتونه ذکرکوی (۱) ناراستی کول(۲) د جهاد نه پاتے کیدل دَاللّٰه تعالیٰ انعام ګنړل۔

[۷۳] په دے آیت کښ هم د منافقانو دوه قباحتونه ذکرکوی۔ فضل، مراد د دے نه فتح اوغنیمت دے۔ ﴿كَاَنْ لَّمْ تَكُنْ﴾ دا جمله معترضه ده اول ایت کښ د دویم خصلت سره تعلق لری یا دا قول ظاهری دے د منافق اوبینه ضمیرئے ځان ته راجع کړے دے او﴿يٰلَيْتَنِيْ﴾ د دهٔ پټ قول دے ﴿فَوْزاً عَظِيماً﴾ مراد ترینه په حصه دَغنیمت سره کامیاب کیدل اشاره ده چه د منافقانو په نیزد دُنیا حصول لویه کامیابی ده۔

[۷٤] دا دریم حکم دے د سیاست یعنی بادشاه دِ د جهاد دپاره داسے رعیت تیار کړی چه هغوی د دُنیا سره محبت نه لری اوعقیده دالری چه په جهاد کښ غلبه اوشهادت دواړه ثواب دے ﴿يَشْرُوْنَ﴾ مراد د دے نه خرڅول اوقربان کول د مال اوتن دی په جهاد اوپه امورود آخرت باندے۔

[۷۵] دا وجے دَجهاد دی چه یوخودَ توحید د غالب کولودپاره جهادکوئے دا معنیٰ د فی سبیل اللّٰه ده۔ اوبل دا چه کمزوری سړی زنانه بچی مسلمانان دَظالمانو په لاسونو کښ ګیردی هجرت نشی کولے د هغوی د خلاصولو د پاره جهاد کوئے۔ اودا د جهاد شرعی دوه مقصدونه دی ﴿الظَّالِمِ اَهْلُهَا﴾ ظلمونه دَمکے والوپه صحابه کراموباندے اودارنګ هرهغه کافران اومشرکان چه په کمزورو مؤمنانوباندے زیاتے کوی اوهغوی لره د دین دَکارونونه منع کوی ﴿وَلِيّاً﴾ هغه کس دے چه د دهٔ نه ظلم د ظالم دفع کړی

يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ الطَّاغُوْتِ فَقَاتِلُوْٓا اَوْلِيَآءَ الشَّيْطٰنِ ۚ اِنَّ كَيْدَ الشَّيْطٰنِ كَانَ ضَعِيْفًا ﴿۷۶﴾ اَلَمْ
تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ قِيْلَ لَهُمْ كُفُّوْٓا اَيْدِيَكُمْ وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ ۚ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقِتَالُ
اِذَا فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ يَخْشَوْنَ النَّاسَ كَخَشْيَةِ اللّٰهِ اَوْ اَشَدَّ خَشْيَةً ۚ وَقَالُوْا رَبَّنَا لِمَ كَتَبْتَ عَلَيْنَا
الْقِتَالَ ۚ لَوْلَآ اَخَّرْتَنَآ اِلٰٓى اَجَلٍ قَرِيْبٍ ۭ قُلْ مَتَاعُ الدُّنْيَا قَلِيْلٌ ۚ وَالْاٰخِرَةُ خَيْرٌ لِّمَنِ اتَّقٰى ۣ
وَلَا تُظْلَمُوْنَ فَتِيْلًا ﴿۷۷﴾ اَيْنَ مَا تَكُوْنُوْا يُدْرِكْكُّمُ الْمَوْتُ وَلَوْ كُنْتُمْ فِيْ بُرُوْجٍ مُّشَيَّدَةٍ ۭ وَاِنْ تُصِبْهُمْ
حَسَنَةٌ يَّقُوْلُوْا هٰذِهٖ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ۚ وَاِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَّقُوْلُوْا هٰذِهٖ مِنْ عِنْدِكَ ۭ قُلْ كُلٌّ مِّنْ

جنګ کوی په لاردَ شیطان کښ پس جنګ اوکړئ دَ ملګرودَ شیطان سره یقیناً مکرِ دَ شیطان کمزورے دے (په مقابله دَ مکرِ دَ اللّٰه تعالیٰ) (۷۶) آیا نه ګورئے هغه کسانوته چه اُوئیلے شودویته بند کړئے لاسونه خپل اوپابندی کوئے دَ مانځه او ورکوئے زکوٰة پس هرکله چه فرض کړے شوپه دوی باندے جنګ دغه وخت یوه ډله دَ دوینه ویره کوی دَ خلقونه پشان دَ ویرے دَ اللّٰه تعالیٰ نه بلکه زیات دی په ویره کښ او وائی اے ربه ولے فرض کړوتا په مونږباندے جنګ ولے نه روستو کړوتا مونږ ترنیټے نزدے پورے اُوایه مزے دَ دُنیا لږے دی اوآخرت غوره دے هغه چاڅه چه ویریږی دَ اللّٰه تعالیٰ نه او ظلم به نشی کیدے په تاسو په قدر دَ تار دَ اډوکی دَکهجورے (۷۷) هرځائے چه یئ تاسولاندے کوی به تاسو لره مرګ اګرچه یئ تاسوپه قلعه ګانو مضبوطو کښ، او که اورسیږی دویته خوشحالی دوی وائی دا دَ طرف دَ اللّٰه تعالیٰ نه ده او که اورسیږی دویته تکلیف دوی وائی، داستا دَ طرف نه ده ته اوایه داټول دَ

﴿نَصِيْرًا﴾ هغه دے چه دهٔ لره دَ وطن نه را اوباسی په امن سره۔

[۷۶] دا ترغیب دے په جهاد باندے چه دَ مؤمنانو مقصد اعلیٰ دے اودَکافرانو مقصد ادنیٰ دے اودَ هغوی مکرونه هم بے کاره دی نومؤمنان دِ دَهغوی په مقابله کښ ضرورجهاد اوکړی ﴿كَانَ ضَعِيْفًا﴾ اګرچه دغه مکرونه کلك اوقوی دی لیکن دَ اللّٰه تعالیٰ دَتدابیروپه مقابله کښ کمزوری دی۔

[۷۷] دَدے اٰیت نه تر(۹۱) پورے دویم باب دے په دیکښ زجرونه دی منافقانوته اودَ هغوی قبائح دی اوبیا ترغیب دے جهاد ته او بیا اقسام دَ منافقانودی۔ دَ آیت مطلب دا دے چه کله دَ قتال دَپاره ماحول نه وی جوړشوے، ملګری کم وی مالی طاقت نه وی نوقتال فرض نه دے لیکن اعمال بدنی اومالی پکاردی دَپاره دَ مشق اوتیارے دَ جهاد دَ نفس۔ لیکن هرکله چه قتال فرض شی نومنافق دَ دُنیا دَ محبت په وجه قتال کښ سستی کوی اودے په قتال کښ مرګ ګنړی ﴿اِذَا فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ﴾ دا صریح دلیل دے چه مراد دَ دے منافقان خلق وؤ صحابه ترینه مراد نه دی ﴿مَتَاعُ الدُّنْيَا قَلِيْلٌ﴾ دا دلیل دے چه دُنیا اومافیهاپه مقابله دَکارونودَ آخرت کښ چه یودَهغے نه جهاد فی سبیل اللّٰه دے لګه ده (بلکه هیڅ نه ده) اوپه دے آیت کښ دَمنافقانودوه خصلتونه ذکردی۔

عِنْدِ اللّٰهِ ؕ فَمَالِ هٰٓؤُلَآءِ الْقَوْمِ لَا يَكَادُوْنَ يَفْقَهُوْنَ حَدِيْثًا ﴿۷۸﴾ مَآ اَصَابَكَ مِنْ حَسَنَةٍ فَمِنَ اللّٰهِ ۘ وَمَآ
اَصَابَكَ مِنْ سَيِّئَةٍ فَمِنْ نَّفْسِكَ ؕ وَاَرْسَلْنٰكَ لِلنَّاسِ رَسُوْلًا ؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا ﴿۷۹﴾ مَنْ يُّطِعِ
الرَّسُوْلَ فَقَدْ اَطَاعَ اللّٰهَ ۚ وَمَنْ تَوَلّٰى فَمَآ اَرْسَلْنٰكَ عَلَيْهِمْ حَفِيْظًا ﴿۸۰﴾ ؕ وَيَقُوْلُوْنَ طَاعَةٌ ۫ فَاِذَا بَرَزُوْا
مِنْ عِنْدِكَ بَيَّتَ طَآئِفَةٌ مِّنْهُمْ غَيْرَ الَّذِيْ تَقُوْلُ ؕ وَاللّٰهُ يَكْتُبُ مَا يُبَيِّتُوْنَ ۚ فَاَعْرِضْ عَنْهُمْ وَ
تَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ ؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيْلًا ﴿۸۱﴾ اَفَلَا يَتَدَبَّرُوْنَ الْقُرْاٰنَ ؕ وَلَوْ كَانَ مِنْ عِنْدِ غَيْرِ اللّٰهِ لَوَجَدُوْا فِيْهِ

طرف دَ اللّٰه تعالیٰ نه دی، پس څه وجه ده دَ دے قوم چه نه دی نزدے چه پوهه شی په څه خبره باندے(۷۸) هغه چه اورسیده تاته څه خوشحالی پس دا دَ فضل دَ اللّٰه نه ده اوهغه چه اورسیدو تاته څه تکلیف پس دا دَ(وجے دَ غلطئے) ستانه دے، اولیګلے ئے مونږ ته خلقوته رسول اوپوره دے اللّٰه تعالیٰ حاضر ناظر(۷۹) چاچه اومنلو حکم دَ رسول پس یقیناً حکم ئے اومنودَ اللّٰه تعالیٰ او چاچه مخ اوګرځوړپس نه ئے لیګلے مونږ ته په دوی باندے ساتنه کؤونکے(۸۰) اودوی وائی څمونږ کار ستا خبره منل دی پس کله چه دوی اوځی دَ خواستانه جرګه کوی یوه ډله دَ دوینه سیوا دَ هغے نه چه وئیلے وی دوی، او اللّٰه تعالیٰ لیکی هغه چه دوی جرګے کوی، پس مخ واړوه دَ دوینه اوځان سپاره په اللّٰه تعالیٰ باندے، او پوره دے اللّٰه تعالیٰ ذمه واردَکارونو (۸۱) آیا پس دوی سوچ نه کوی په قرآن کښ، اوکه وے قرآن دَ طرف دَ غیراللّٰه نه خامخا موندلے به ؤو دوی په هغے کښ

[۷۸] دَ ایت په اوله حصه کښ ئے دَمرګ فیصله بیان کړے ده چه دَ هغے نه بچ کوؤنکے هیڅ شے نیشته او مقصد پکښ ترغیب دے قتال فی سبیل اللّٰه ته چه دَمرګ دَ ویرے دَ وجے نه قتال مه پریږدئ۔ اوپه دویمه حصه کښ دَ منافقانوخصلت ذکرکوی چه دوی دَخوشحالئ نسبت اللّٰه تعالیٰ ته کوی اودَ سختئے اوتکلیف نسبت پیغمبرﷺ ته کوی په طریقه دَ سپیره توب سره۔اونسبت کول اللّٰه تعالیٰ ته دَوجے دَ ایمان نه نه دی بلکه دایو حق واجبه ګټری په اللّٰه تعالیٰ باندے۔ اوپه دے آیت کښ دَ منافقانودوه خصلتونه ذکردی۔

[۷۹] دا ایت دَمخکښ جملے دَمنافقانودَقول په ردکښ دے مطلب دا دے چه خوشحالی خالص دَاللّٰه تعالیٰ فضل دے په اللّٰه تعالیٰ باندے حق واجب نه دے اوکه دَنیك عمل په وجه وی نوهغه هم دَاللّٰه تعالیٰ فضل دے اوبدحالی دَانسان دَغلطئے په وجه سره وی او اخری جمله کښ ئے دَ رسول صدق ذکرکړے دے۔ دپاره دَ رد دَ عقیدے دَ منافقانو﴿شَهِيْدًا﴾ مراد دَ دے نه شهادت دَ اللّٰه تعالیٰ دے په صدق دَنبیﷺ باندے ﴿فَمِنْ نَّفْسِكَ﴾ دَ وجے دَګناه دَ نفس نه دے خطاب نبیﷺ ته دے اومراد ترینه اُمت دے۔

[۸۰] دا ترغیب دے اطاعت رسول ته روستو دَ اثبات دَصدق دَ هغه نه۔ اطاعة دَا اللّٰه ئے اطاعة دَ رسول نه دے ګرځولے ځکه چه دَ اطاعة اللّٰه (چه قرآن دے) علم په اطاعت دَ رسول سره حاصلیږی اوبرعکس نه کیږی ﴿فَمَآ اَرْسَلْنٰكَ﴾ جزاء پټه ده چه فلایسئل عنك (ستانه دَ هغه تپوس نه کیږی)۔

[۸۱] دا زجردے منافقانوته اودَ هغوی بدئے ذکرکوی۔په دے آیت کښ ئے دَ هغوی یوه بدی ذکرکړے ده

اخْتِلَافًا كَثِيْرًا ﴿۸۲﴾ وَاِذَا جَآءَهُمْ اَمْرٌ مِّنَ الْاَمْنِ اَوِ الْخَوْفِ اَذَاعُوْا بِهٖ ؕ وَلَوْ رَدُّوْهُ اِلَى الرَّسُوْلِ وَاِلٰٓى
اُولِي الْاَمْرِ مِنْهُمْ لَعَلِمَهُ الَّذِيْنَ يَسْتَنْۢبِطُوْنَهٗ مِنْهُمْ ؕ وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ لَاتَّبَعْتُمُ
الشَّيْطٰنَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۸۳﴾ فَقَاتِلْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۚ لَا تُكَلَّفُ اِلَّا نَفْسَكَ وَحَرِّضِ الْمُؤْمِنِيْنَ ۚ عَسَى اللّٰهُ
اَنْ يَّكُفَّ بَاْسَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ؕ وَاللّٰهُ اَشَدُّ بَاْسًا وَّاَشَدُّ تَنْكِيْلًا ﴿۸۴﴾ مَنْ يَّشْفَعْ شَفَاعَةً حَسَنَةً يَّكُنْ لَّهٗ

اختلاف ډیر(۸۲) او کله چه راغے دویته خبرډ امن یا ډ ویرے خوروی دوی هغه۔ او که رسولے وے دوی هغه رسول ته اوپوهه خلقوته ډ دوینه خامخا پوهه شوے به وے په دے هغه کسان چه معلوموی هغے لره ډ دوینه، او که نه وے فضل ډ الله تعالیٰ پتاسو باندے او رحمت ډ هغه خامخا تابعداری به کړے وے تاسو ډ شیطان مګر لږ کسان (۸۳) پس جنګ کوه په لارډ الله تعالیٰ کښ، ذمه واری نیشته په تامګړډ ځان خپل اوتیزی ورکوه مؤمنانو ته امید کوه چه الله تعالیٰ به بندکړی جنګ ډ کافرانو، او الله تعالیٰ سخت دے په جنګ کښ اوسخت دے په سزا ورکولوکښ (۸٤) چاچه سفارش اوکړو سفارش خه وی به دهٔ لره

﴿غَيْرَ الَّذِيْ تَقُوْلُ﴾ په دے کښ یوه توجیه دا ده چه تقول مؤنث صیغه ده ضمیرئ راجع دے طائفةٌ ته دویمه توجیه داچه مخاطب صیغه ده خطاب نبی ﷺ ته دے۔

[۸۲] دا هم زجردے منافقانوته اودَ هغوی یوه بدی ذکرکوی اودَ دے ایت نه معلومه شوه چه مقصد ډ قرآن صرف تلاوت نه دے بلکه تدبرکول دی۔ اودے ایت کښ دلیل دے په صدق ډ قرآن باندے یعنی که دا ډ الله تعالیٰ کتاب نه وے نو پدے کښ به ډیره خطائی غلطی وے لیکن خطائی او غلطی پکښ نیشته نومعلومه شوه چه دا ډ الله تعالیٰ کتاب دے۔ اختلاف نه مراد تناقض او غلطی ده چه یوه خبره ډ بلے خبرے مقابله کښ وی۔ دا په قرآن کښ نیشته۔ دارنګ اختلاف تفاوت پکښ نیشته او هغه دا دے چه بعضے کلمے ډیرے فصاحت والاوی اوبعضے کلمے بالکل غورځیدلے وی ډ مرتبے ډ فصاحت نه او هرچه اختلاف ډقرائت دے نو دا اختلاف تلاؤم دے دا مضرنه دے ځکه چه مراد کښ فرق نه راځی۔

[۸۳] دا هم زجردے منافقانوته اودَ دوی یوه بدی ذکرکوی امن اوخوف عام دے که ډُنیوی وی چه هغه امن دے ډ ډُشمن نه یاخوف دے ډ هغه نه او که دینی وی یعنی ثواب او عذاب اوجائز او ناجائز مطلب دا دے بغیر ډ پوهے ډ دلیل نه ډ دے اشاعت نه دے پکار۔ فضل نه مراد قرآن کریم دے اورحمت نه مراد رسول دے او ﴿اِلَّا قَلِيْلًا﴾ نه مراد هغه خلق دی چه په زمانه ډجاهلیت کښ مؤحدین وو۔ اوپه آیت کښ دلیل دے چه استنباط اواستدلال ډمجتهد ډ نص(آیت اوحدیث) نه هم په شرع کښ دلیل دے ﴿الَّذِيْنَ﴾ مراد ډ دے نه اولی الامردی اومراد ډاستنباط نه اجتهاد دے یا مراد ډ دے نه منافقان دی اومراد ډاستنباط نه حاصلول اوایزده کول دی۔

[۸٤] په دے کښ ترغیب دے په قتال فی سبیل الله باندے۔ اورد دے په منافقانو باندے چه هغوی ډ قتال فی سبیل الله نه منع کوی ﴿نَفْسَكَ﴾ مراد ترینه صرف ذات ډ نبی ﷺ دے یامراد ترے وسع ډ ځان ده اشاره ده چه ډ انسان دوه ذمه دارئے دی یوعمل کول دویم نوروخلقوته ترغیب ورکول ﴿اَشَدُّ بَاْسًا﴾ ډ دے

نَصِيبٌ مِّنْهَا ۚ وَمَنْ يَّشْفَعْ شَفَاعَةً سَيِّئَةً يَّكُنْ لَّهٗ كِفْلٌ مِّنْهَا ۗ وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ مُّقِيْتًا ﴿۸۵﴾ وَ
اِذَا حُيِّيْتُمْ بِتَحِيَّةٍ فَحَيُّوْا بِاَحْسَنَ مِنْهَآ اَوْ رُدُّوْهَا ۗ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ حَسِيْبًا ﴿۸۶﴾ اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ
اِلَّا هُوَ ۗ لَيَجْمَعَنَّكُمْ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ لَا رَيْبَ فِيْهِ ۗ وَمَنْ اَصْدَقُ مِنَ اللّٰهِ حَدِيْثًا ﴿۸۷﴾ فَمَا لَكُمْ فِى
الْمُنٰفِقِيْنَ فِئَتَيْنِ وَاللّٰهُ اَرْكَسَهُمْ بِمَا كَسَبُوْا ۗ اَتُرِيْدُوْنَ اَنْ تَهْدُوْا مَنْ اَضَلَّ اللّٰهُ ۗ وَمَنْ يُّضْلِلِ
اللّٰهُ فَلَنْ تَجِدَ لَهٗ سَبِيْلًا ﴿۸۸﴾ وَدُّوْا لَوْ تَكْفُرُوْنَ كَمَا كَفَرُوْا فَتَكُوْنُوْنَ سَوَآءً فَلَا تَتَّخِذُوْا مِنْهُمْ اَوْلِيَآءَ

برخه دَ ثواب دَ هغے په وجه او چاچه سفارش اوکړوسفارش بد وی به دهٔ لره پیتے دَګناه دَ هغے په وجه، اودے اللّٰه تعالیٰ په هرځیز باندے طاقت والا (۸۵)اوکله چه سلام اوکړے شی په تاسوسلام پس جواب ورکړئے غوره دَ هغے نه یاجواب ورکړئے پشان دَ هغے یقیناً اللّٰه تعالیٰ دے په هرځیز باندے حساب کوونکے(۸۶) اللّٰه تعالیٰ نیشته دَ بند ګئی حقدارسیوا دَ هغه نه خامخا به تاسوراجمع کړی ورځ دَ قیامت ته چه شك نیشته په هغے کښ، اوڅوك ډیر رشتینے دے دَ اللّٰه تعالیٰ نه په خبرو کښ(۸۷)پس ولے شوے په باره دَ منافقانو کښ دوه ډلے اواللّٰه تعالیٰ نسکورکړی دی دوی په سبب دَ عملونودَ دوی آیا تاسو غواړئے چه هدایت والا اوګنړئے هغه څوك چه بے لارے کړے دے اللّٰه تعالیٰ اوڅوك چه اللّٰه تعالیٰ بے لارے کړی پس هیڅ چرے اوبه نه مومے هغه لره لار (۸۸) غواړی دوی چه کافران شئے تاسو لکه چه دوی کافران دی پس شئ به تاسو برابر پس مه نیسئے دَ دوی نه دوستان

ظهورپه دُنیا کښ کیږی او ﴿تَنْكِيلًا﴾ دَ دے ظهور به په آخرت کښ کیږی۔

[۸۵] په دے کښ ترغیب دے په بیان او دعوت دَ نیکئے باندے مثلاجهاد او ویره ورکول دی دَ ناکاره بیان اودعوت نه لکه جهاد پرے خودل ﴿شَفَاعَةً حَسَنَةً﴾ سفارش دَ نیکئے او دعوت دَ خیراو جهاد ته شامل دے اوشفاعة سیئه سفارش دَ بدئے او دعوت دَ شراو دَګناه ته شامل دے۔

[۸۶] یعنی دعوت کوؤنکے چه کله تاسوته راشی اوسلام اوکړی نوجواب په صحیح طریقه سره ورکړئے دارنګ چه کله دعوت دَ جهاد درکړی نوپه ښه طریقه سره هغه قبول کړئے ﴿تَحِيَّةً﴾ سلام مسنون او دعوت دَ ژوند چه جهاد اونیکی کول دی ټولوته شامل دے ﴿اَحْسَنَ﴾ دا دے چه وعلیکم السلام ورحمة اللّٰه وبرکاته او ﴿رُدُّوْهَا﴾ صرف وعلیکم السلام وئیل۔

[۸۷] دا مسئله دَ توحید ده دَ دے مطلب دا دے چه جهاد او دعوت دَ دے مسئلے دپاره کوئے۔ په دے آیت کښ په اوله جمله کښ مسئله دَ توحید ده او په دویمه جمله کښ ایمان په روز دَ قیامت باندے اوپه دریمه جمله کښ صدق دَ قرآن کریم ذکر دے۔

[۸۸] پدے آیاتونو کښ دَ منافقانو قسمونه ذکرکوی چه بعضو سره قتال پکار دے۔ پدے ایت کښ هغه منافقان مراد دی چه هجرت ئے نه وی کړے او دار حرب کښ اوسی اودَ کافرانو سره ملګرتیاکوی۔ نو بعضے مسلمانانو وئیل چه دوی سره جنګ نه دے جائز، اوبعضو وئیل دوی کافران دی جنګ ورسره پکار دے، نو اللّٰه تعالیٰ مسلمانان دَ دے اختلاف نه منع کړل۔ بعض مفسرینو وئیلی دی چه دا نازل شویدے په باره

حَتّٰى يُهَاجِرُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَخُذُوْهُمْ وَ اقْتُلُوْهُمْ حَيْثُ وَجَدْتُّمُوْهُمْ ۪ وَلَا تَتَّخِذُوْا
مِنْهُمْ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ﴿۸۹﴾ اِلَّا الَّذِيْنَ يَصِلُوْنَ اِلٰى قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَ بَيْنَهُمْ مِّيْثَاقٌ اَوْ جَآءُوْكُمْ
حَصِرَتْ صُدُوْرُهُمْ اَنْ يُّقَاتِلُوْكُمْ اَوْ يُقَاتِلُوْا قَوْمَهُمْ ؕ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَسَلَّطَهُمْ عَلَيْكُمْ فَلَقٰتَلُوْكُمْ ۚ
فَاِنِ اعْتَزَلُوْكُمْ فَلَمْ يُقَاتِلُوْكُمْ وَ اَلْقَوْا اِلَيْكُمُ السَّلَمَ ۙ فَمَا جَعَلَ اللّٰهُ لَكُمْ عَلَيْهِمْ سَبِيْلًا ﴿۹۰﴾
سَتَجِدُوْنَ اٰخَرِيْنَ يُرِيْدُوْنَ اَنْ يَّاْمَنُوْكُمْ وَ يَاْمَنُوْا قَوْمَهُمْ ؕ كُلَّمَا رُدُّوْٓا اِلَى الْفِتْنَةِ اُرْكِسُوْا
فِيْهَا ۚ فَاِنْ لَّمْ يَعْتَزِلُوْكُمْ وَيُلْقُوْٓا اِلَيْكُمُ السَّلَمَ وَيَكُفُّوْٓا اَيْدِيَهُمْ فَخُذُوْهُمْ وَ اقْتُلُوْهُمْ حَيْثُ

تردے پورے چه هجرت اوکړی په لارد اللّٰه تعالیٰ کښ۔ پس دوی که مخ اوګرځوو، پس نیسئے دوی (په قید کولو) او وژنئے دوی کوم ځائے چه مومئے تاسودوی، اومه نیسئے دَ دوینه دوست اونه امدادی (۸۹) مګرهغه کسان چه یوځائے کیږی دَ هغه قوم سره چه په مینځ ستاسو اودَ دوی کښ وعده وی یاراشی دوی تاسوته چه بندے وی سینے دَ دوی چه جنګ اوکړی تاسوسره یاجنګ اوکړی دَ قوم خپل سره،اوکه غوختے وے اللّٰه خامخا زور آور کړی به ئے ؤو دوی په تاسو باندے پس خامخا جنګ به کړے وے دوی تاسو سره، پس که دوی ډ ډه کوله ستاسونه پس جنګ نه کوی تاسو سره اوپیش کوی تاسوته روغه، پس نه ده ګرځولے اللّٰه تعالیٰ تاسولره په دوی باندے لار (دَ جنګ کولو) (۹۰) زردے چه اوبه مومئے تاسو نور خلق (منافقین) چه غواړی دوی چه په امن شی دوی ستاسونه اوپه امن شی دَ قوم خپل نه هروخت چه اوبللے شی فتنے ته (شرك ته) نونسکور پرے وځی په هغے کښ، پس که دوی ډ ډه نه کوی ستاسونه اونه پیش کوی تاسوته روغه اونه بندَوی لاسونه خپل (دَ جنګ ستاسونه) پس نیسئے دوی(په قید کولو) او وژنے دوی کوم ځائے چه

دَ هغه منافقانو کښ چه دَاحد دَ غزوه نه واپس تلی وؤ نومراد به دَ دے نه منع دَاختلاف کولونه په باره دَمنافقت د دوی کښ وی ﴿اَنْ تَهْدُوْا﴾ دَ هدایت نه مراد توفیق دَ ایمان دے یا هغوی ته نوم دَ مهتدی ورکول دی صرف هدایت کول مراد نه دی ځکه چه دَ هغے نه خو منع نشی کیدلے شرعاً۔

[۸۹] په دے ایت کښ دَ دغه منافقانو په باره کښ حکم ذکرکوی چه دوی هجرت نه کوی نودَ دوی سره جنګ کوئے ځکه چه دوی دار اسلام کښ نه دی داخل شوی ﴿فَخُذُوْهُمْ﴾ مراد دَ دے نه قیدکول دی۔

[۹۰] په دے ایت کښ دَ منافقانودوه قسمه ذکرکوی چه هغوی سره قتال کول جائز نه دی (۱) یوقوم کافرچه هغوی سره دَمسلمانانوعهد شوے وی اود دوی سره دَ مسلمانانوتعلق وی هغوی ته معاهد المعاهد وئیلے کیږی(۲) هغه منافقان چه بالکل عاجز اوغلی وی یوطرفته ملګرتیانه کوی په جنګ کښ ﴿اَوْيُقَاتِلُوْا قَوْمَهُمْ﴾ په دے کښ دوه توجیه دی اوله توجیه دا ده چه دَقوم خپل سره جنګ نه کوی ځکه چه هغوی په حقه لار باندے ګنړی دویمه توجیه دا ده چه دَ هغوی سره په جنګ کښ ملګرتیا نه کوی ځان دَ ډله بازئ نه بچ ساتی۔

ثَقِفْتُمُوْهُمْ ط وَاُولٰٓئِكُمْ جَعَلْنَا لَكُمْ عَلَيْهِمْ سُلْطٰنًا مُّبِيْنًا ﴿۹۱﴾ وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ اَنْ يَّقْتُلَ مُؤْمِنًا
اِلَّا خَطَـًٔا ۚ وَمَنْ قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَـًٔا فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ وَّدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ اِلٰٓى اَهْلِهٖٓ اِلَّآ
اَنْ يَّصَّدَّقُوْا ط فَاِنْ كَانَ مِنْ قَوْمٍ عَدُوٍّ لَّكُمْ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ ط وَاِنْ
كَانَ مِنْ قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ مِّيْثَاقٌ فَدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ اِلٰٓى اَهْلِهٖ وَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ ۚ
فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ ۙ تَوْبَةً مِّنَ اللّٰهِ ط وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ﴿۹۲﴾ وَمَنْ يَّقْتُلْ
مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآؤُهٗ جَهَنَّمُ خٰلِدًا فِيْهَا وَغَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهٗ وَاَعَدَّ لَهٗ عَذَابًا

وس برشی ستاسو په دوی باندے۔ اودغه کسان ورکړے دے مونږ تاسولره په (جنګ دَ دوی) باندے دلیل ښکاره(۹۱) اونه دی جائز مؤمن لره چه او وژنی مؤمن مګر که اُوژنی په خطا(نوحکم دَ هغے واورئے) اوچاچه قتل کړو مؤمن لره په خطا سره پس په دهٔ باندے آزادول دَ مرئی مؤمن دی اودیت دے سپارلے شوے وارثانو دَ هغه ته مګرکه هغوی صدقه اوکړی (په معاف کولودَ دیت) پس که وی (مقتول) دَ هغه قوم چه دُشمن ستاسودے اودے وی مؤمن پس په (قاتل باندے) آزادول دَ مرئی مؤمن دی۔ اوکه وی(مقتول) دَ داسے قوم نه چه په مینځ ستاسواوپه مینځ دَ دوی کښ پخه وعده وی پس لازم دے دیت سپارلے شوے وارثانودَ هغه ته او آزادول دی دَ مرئی مؤمن۔ پس څوك چه نه مومی (مرئے مؤمن) پس په دهٔ باندے روژے دی دوه میاشتے پرله پسے آسان تیا ده دَ طرف دَ اللّٰه تعالیٰ نه اودے اللّٰه تعالیٰ پوهه حکمتونو والا (۹۲)اوچاچه قتل کړو مؤمن لره په قصد سره پس سزادَ دهٔ جهنم دے ډیر وخت پورے به وی په هغے کښ اوغضب کړے دے اللّٰه تعالیٰ په هغه باندے اولعنت کړے دے په دهٔ باندے اوتیارکړے دے دهٔ لره عذاب

[۹۱] دا بل قسم منافقین دی چه دوی منافقت کوی او چه کله وس ئے برشی نو دَ مؤمنانو مخالف جنګ کوی اوکفر ښکاره کوی نودَ دوی سره قتال پکاردے﴿يُرِيْدُوْنَ﴾ یعنی ایمان اوکفردواړه نه ښکاره کوی دَدواړوطرفونونه ځان بچ ساتی۔

[۹۲] دَ دے ځائے نه دریم باب دے، باقی شپږ احکام دَ سیاست ذکرکوی نو داځلورم حکم دے حکم دَ قتل خطاء اسلحه ښکاره کوی یا هوائی ډزے کوی اوبنده پرے اولګی او مړشی، یا یوتن په دے قصد وژنی چه دا کافرحربی دے اوحال داچه هغه مؤمن وی۔ په دے دَ اسلام دَ وجے نه حق دَاللّٰه واجب کیږی چه کفاره ده او دا امر تعبدی دے دَ ګناه دَوجے نه نه ده، ځکه چه خطاء کښ ګناه نیشته، او دَدار اسلام دَ وجے نه دیت واجب کیږی، او دیت دَ مسلمانانو وارثانو یا دَاهل ذمه حق دے اودیت لازم دے په خپلوانو دَقاتل که دَ هغوی طاقت نه وی نو بیا په دهٔ (قاتل) باندے لازم دے اوکه دَ دهٔ طاقت نه وی نو په بیت المال باندے لازم دے او دیت په دے کښ دوه زره اوسوه څلویښت تولے تقریباً چاندی ده یا دَ هغے موجوده قیمت اودا به درے کاله کښ اداکیږی۔ یا سل اوښان دی ﴿اِلَّا خَطَـًٔا﴾ دا استثناء منقطع ده ﴿اِلَّآ اَنْ يَّصَّدَّقُوْا﴾ په دے کښ ترغیب دے معافی کولوته چه داتصدق کول دی ﴿عَدُوٍّ لَّكُمْ﴾ مراد د دینه اهل حرب کافردی ﴿تَوْبَةً

عَظِيمًا ﴿۹۴﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا ضَرَبْتُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَتَبَيَّنُوْا وَلَا تَقُوْلُوْا لِمَنْ اَلْقٰٓى اِلَيْكُمُ السَّلٰمَ لَسْتَ مُؤْمِنًا ۚ تَبْتَغُوْنَ عَرَضَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۡ فَعِنْدَ اللّٰهِ مَغَانِمُ كَثِيْرَةٌ ؕ كَذٰلِكَ كُنْتُمْ مِّنْ قَبْلُ فَمَنَّ اللّٰهُ عَلَيْكُمْ فَتَبَيَّنُوْا ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا ﴿۹۴﴾ لَا يَسْتَوِى الْقٰعِدُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ غَيْرُ اُولِى الضَّرَرِ وَالْمُجٰهِدُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ ؕ فَضَّلَ اللّٰهُ الْمُجٰهِدِيْنَ بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ عَلَى الْقٰعِدِيْنَ دَرَجَةً ؕ وَكُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ الْحُسْنٰى ؕ وَفَضَّلَ اللّٰهُ الْمُجٰهِدِيْنَ عَلَى الْقٰعِدِيْنَ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿۹۵﴾ ۙ دَرَجٰتٍ مِّنْهُ وَمَغْفِرَةً وَّرَحْمَةً ؕ وَ

لوئے(۹۳) اے ایمان والو: کله چه سفراوکړئ تاسوپه لارد اللّٰه تعالیٰ کښ پس تحقیق کوئ اومه وائے هغه چاته چه پیش کړی تاته کلمه د اسلام نه ئے ته مؤمن غواړئے تاسو سامان د ژوند دُنیوی پس په نیزد اللّٰه تعالیٰ غنیمتونه ډیردی دغسے وئے تاسو مخکے پس احسان اوکړواللّٰه تعالیٰ په تاسوباندے (په کلکولوسره) پس تحقیق کوئے یقینا اللّٰه تعالیٰ دے په هغه عملونو چه تاسو کوئے خبردار(۹٤) نه دی برابر ناست کسان د مؤمنانونه سیوا د عذروالونه اوجهاد کؤونکی په لارد اللّٰه تعالیٰ کښ په مالونوخپلو اوځانونو خپلو۔ غوره والے ورکړے دے اللّٰه تعالیٰ جهاد کؤونکوته په مالونو خپلو سره اوځانونو خپلو سره په ناستوکسانوباندے یو درجه، اوهریوسره وعده کړے ده اللّٰه تعالیٰ د جنت اوغوره والے ورکړے دے اللّٰه تعالیٰ جهاد کؤونکو لره په ناستوکسانو ثواب لوئے (۹۵) ډیرے درجے د طرف د اللّٰه تعالیٰ نه اوبخنه کول او خاص رحم او

﴿مِّنَ اللّٰهِ﴾ مراد د توبے نه تخفیف اوآسانتیاده توبه د ګناه مراد نه ده ځکه چه په خطاء کښ ګناه نه وی۔

[۹۳] قتل عمد ګناه کبیره دے د دے پنځه سزاګانے ئے ذکرکړی دی، څوك چه دا حلال ګنړی نو هغه کافروی نو دا ایت یا په باره د هغه چاکښ دے چه دا حلال ګنړی یا معنیٰ د خَالِداً دا ده چه ډیر وخت به په عذاب کښ وی۔

[۹٤] دا پنځم حکم دے تحقیق د کلمه ګو،یعنی په حال د سفردجهادکښ یوتن کلمه د اسلام اُوائی(اود کفروشرك کارونه پریږدی) نوتاسودهٔ لره په دے بهانه مه وژنئے چه دے خوکافردے اوداکلمه ئے د ځان بچ کولودپاره وئیلے ده د دهٔ په حال اللّٰه تعالیٰ عالم دے ﴿كَذٰلِكَ كُنْتُمْ﴾ مطلب دا دے چه په ابتداء د اسلام کښ هم صرف ستاسونه کلمه د اسلام قبوله شوے ده روستو اللّٰه تعالیٰ احسان اوکړو او تاسوئے په اسلام پابنه کړئے۔ هاں که څوك کلمه د اسلام وائی لیکن تاسو د هغه نه کلمه د کفراوشرك واورئے یا کارونه د شرك اوکفر کوی نو دے منافق اعتقادی دے او دے ایت کښ مطلب داشو چه بادشاه له پکار دی چه رعیت اولښکرله په داسے طریقه تربیت ورکړی ﴿السَّلٰمَ﴾ مراد د دے نه کلمه د اسلام ده چه هغه سبب د سلامتیا دے یا مراد سلام کول دی په شرعی طریقے سره چه هغه هم شعارد مسلمانئے دے ﴿عَرَضَ﴾ مراد د دے نه غنیمت دے۔او دا دلیل دے چه دُنیوی څیزونه ټول اعراض دی۔

[۹۵] دا ترغیب دے دپاره د جهادکولو ربط د دے چه د ویرے د قتل د مؤمن نه قتال مه پریکځئے۔ قاعدین

كَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿۹۶﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ تَوَفّٰىهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ ظَالِمِيْٓ اَنْفُسِهِمْ قَالُوْا فِيْمَ كُنْتُمْ ؕ
قَالُوْا كُنَّا مُسْتَضْعَفِيْنَ فِي الْاَرْضِ ؕ قَالُوْٓا اَلَمْ تَكُنْ اَرْضُ اللّٰهِ وَاسِعَةً فَتُهَاجِرُوْا فِيْهَا ؕ
فَاُولٰٓئِكَ مَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ؕ وَسَآءَتْ مَصِيْرًا ﴿۹۷﴾ اِلَّا الْمُسْتَضْعَفِيْنَ مِنَ الرِّجَالِ وَ النِّسَآءِ وَ
الْوِلْدَانِ لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ حِيْلَةً وَّلَا يَهْتَدُوْنَ سَبِيْلًا ﴿۹۸﴾ فَاُولٰٓئِكَ عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّعْفُوَ عَنْهُمْ ؕ
وَكَانَ اللّٰهُ عَفُوًّا غَفُوْرًا ﴿۹۹﴾ وَمَنْ يُّهَاجِرْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ يَجِدْ فِي الْاَرْضِ مُرٰغَمًا كَثِيْرًا

دے اللّٰه تعالیٰ بخنه کوؤنکے رحم کوونکے (۹۶) یقیناً هغه کسان چه روح اخلی دَ هغوی نه ملائك ظلم کؤونکی په ځانونو خپلو(په هجرت نه کولو) وائی دوی په څه کښ وئے تاسو۔ وائی دوی: ؤومونږ کمزوری کړے شوی په ځمکه کښ، وائی ملائك آیا نه وه ځمکه دَ اللّٰه تعالیٰ فراخه پس چه هجرت کړے وے تاسو په هغے کښ پس دغه کسان ځائے دَ دوی جهنم دے اوبد دے ځائے دَ ګرځیدودا جهنم (۹۷) مګر کمزوری دَ نارینونه او زنانه اوبچی طاقت نه لری دَ بهانے اونه پیژنی لار(دَ هجرت کولو) (۹۸) پس دغه کسان امید(دِلری) چه اللّٰه تعالیٰ معافی به اوکړی دَ دوینه او دے اللّٰه تعالیٰ معافی کؤونکے بخنه کؤونکے(۹۹) اوچاچه هجرت اوکړوپه لارَ اللّٰه تعالیٰ کښ اوبه مومی په زمکه ځایونه دَ اوسیدوډیر

دوه قسمه دی یو معذوره دویم غیرمعذوره نودَ مجاهدینوپه معذوره باندے یوه درجه فضیلت دے اوپه غیرمعذورباندے ډیرے درجے فضیلت دے دَ دے وجے نه دے ایت کښ دوه کرته دَ مجاهدینو فضیلت ذکرشو اول کرت یو درجه دویم کرت ډیر درجات ﴿اَلْحُسْنٰى﴾ مراد دَ دے نه جنت دے اودَ قاعدینو سره هم وعده دَ جنت په سبب دَ نیت دَ هغوی سره اودَ مجاهدینوسره په سبب دَ عمل دَ جهاد سره۔

[۹۶] دا زیرے اُخروی دے۔ اودا تفسیرداجرعظیم دے۔

[۹۷] داشپږم حکم دے بادشاه اورعیت له پکاردی چه مهاجرینولره ځائے ورکړی اودَ هغوی تعاون اوکړی ﴿فِيْمَ كُنْتُمْ﴾ مطلب دا دے چه تاسو دَ اللّٰه تعالیٰ بندګی په توحید سره ولے نه کوله۔ او اظهار دَ شعائرو دَ اسلام هم ولے نه کوؤ نو دوی به جواب کوی چه مونږ کمزوری وؤ۔ اوپه دے ایت کښ حال دَ زنکدن یا حال دَ قبر (برزخ) مراد دے ﴿اَرْضُ اللّٰهِ وَاسِعَةً﴾ یعنی داسے وطن ته به موهجرت کړے وے چه په هغے کښ په اظهاردَ اسلام باندے پابندی نه وے ﴿فَاُولٰٓئِكَ مَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ﴾ دلیل دے چه مؤمن ګنهګار دپاره هم سزا دَ جهنم شته دے هرکله چه اللّٰه تعالیٰ هغه ته معافئ اونکړی۔

[۹۸] داپه هجرت کښ دَ معذورو ذکردے ﴿حِيْلَةً﴾ پټ تدبیرته وئیلے شی اواکثراستعمال دَ دے لفظ په ناجائزو کارونو کښ کیږی داسے راغب په مفردات کښ لیکلی دی۔

[۹۹] دا زیرے دے اهل عذرته ﴿عَسَى﴾ دَ طرف دَ اللّٰه تعالیٰ نه دَ یقین دپاره استعمالیږی۔ مشهوره وه چه۔اَلْكَرِيْمُ اِذَا وَعَدَ وَفٰى۔

وَّسَعَةً ؕ وَمَنْ يَّخْرُجْ مِنْۢ بَيْتِهٖ مُهَاجِرًا اِلَى اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ثُمَّ يُدْرِكْهُ الْمَوْتُ فَقَدْ وَقَعَ
اَجْرُهٗ عَلَى اللّٰهِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿۱۰۰﴾ وَاِذَا ضَرَبْتُمْ فِى الْاَرْضِ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ اَنْ
تَقْصُرُوْا مِنَ الصَّلٰوةِ ۖ اِنْ خِفْتُمْ اَنْ يَّفْتِنَكُمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ؕ اِنَّ الْكٰفِرِيْنَ كَانُوْا لَكُمْ عَدُوًّا
مُّبِيْنًا ﴿۱۰۱﴾ وَاِذَا كُنْتَ فِيْهِمْ فَاَقَمْتَ لَهُمُ الصَّلٰوةَ فَلْتَقُمْ طَآئِفَةٌ مِّنْهُمْ مَّعَكَ وَلْيَاْخُذُوْٓا
اَسْلِحَتَهُمْ ۫ فَاِذَا سَجَدُوْا فَلْيَكُوْنُوْا مِنْ وَّرَآئِكُمْ ۪ وَلْتَاْتِ طَآئِفَةٌ اُخْرٰى لَمْ يُصَلُّوْا فَلْيُصَلُّوْا مَعَكَ
وَلْيَاْخُذُوْا حِذْرَهُمْ وَاَسْلِحَتَهُمْ ۚ وَدَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوْ تَغْفُلُوْنَ عَنْ اَسْلِحَتِكُمْ وَاَمْتِعَتِكُمْ
فَيَمِيْلُوْنَ عَلَيْكُمْ مَّيْلَةً وَّاحِدَةً ؕ وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ اِنْ كَانَ بِكُمْ اَذًى مِّنْ مَّطَرٍ اَوْ كُنْتُمْ

اوفراخی، اوځوك چه اووتودَ کورخپل نه هجرت کۈونکے طرف دَ اللّٰه تعالیٰ او دَ رسول دَ هغه ته بیا لاندے کړی دهٔ لره مرګ پس یقیناً اوشوثواب دَ دهٔ، دَ اللّٰه تعالیٰ سره اودے اللّٰه تعالیٰ بخنه کۈونکے رحم کۈونکے(۱۰۰) اوکله چه سفر اوکړئے تاسو په زمکه کښ پس نیشته په تاسو باندے ګناه چه کموئے دَ مانځه نه که ویریږئے تاسو چه تکلیف به درکړی تاسو لره کافران یقیناً کافران دی ستاسودپاره دُشمنان بنکاره (۱۰۱) اوکله چه ئے ته په دوی کښ پس کوے ته دَ دوی دپاره مونځ دَ جماعت (په وخت دَ ویره کښ) پس اودریږی دِ یوه ډله دَ دوینه په تاپسے او اودِنیسی هغوی وسلے خپلے پس کله چه دوی سجده اوکړی (دَ اول رکعت) پس شی دِ دوی ستاسونه شاته او رادِشی بله ډله چه مونځ ئے نه وی کړے پس مونځ دِ اوکړی په تاپسے او اودِنیسی بچاؤخپل او وسلے خپلے ، غواړی هغه کسان چه کفر ئے کړے دے چه غافل شئے تاسودَ خپلو وسلونه اودَ سامانونوخپلونه پس حمله به اوکړی په تاسو باندے حمله یوه (په یوځل) اونیشته ګناه په تاسوباندے که وی په تاسوباندے تکلیف دَ وجے دَ باران نه یایئ تاسو

[۱۰۰] دا ایت دلیل دے چه نیك عمل سره نیت صحیحه ملګرے وی نواجر ملاویږی اګرچه عمل سرته اونه رسی ﴿مُرٰغَمًا﴾ مراد دَ دے نه داسے ځایونه دی چه کافرخبرشی نوهغه خفه شی ﴿سَعَةً﴾ مراد دَ دے نه فراخی دَ ژوند ده۔

[۱۰۱] دا اُوم حکم دے مونځ په حال دَ سفر کښ ﴿اِنْ خِفْتُمْ﴾ دا لفظ دَ دے دپاره دے چه دَ سفر سره حکم دَ حالت خوف دے ځکه روستو ایت کښ طریقه دَصلوٰة خوف ذکرده اشاره ده چه بادشاه له پکاردی چه اسلامی لښکرله دا تربیت ورکړی اګرچه حکم دَ صلوٰة سفرپه خوف پورے خاص نه دے۔ ﴿فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ اَنْ تَقْصُرُوْا﴾ په دیکښ رد دے په هغه چا باندے چه قصر کول سبب دَ ګناه ګنړی یعنی قصرکول ګناه مه ګنړئے دا مطلب نه دے چه قصر کول مباح دی نه بلکه واجب دی۔

مَّرْضٰٓى اَنْ تَضَعُوْٓا اَسْلِحَتَكُمْ ۚ وَخُذُوْا حِذْرَكُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ اَعَدَّ لِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابًا مُّهِيْنًا ﴿۱۰۲﴾ فَاِذَا
قَضَيْتُمُ الصَّلٰوةَ فَاذْكُرُوا اللّٰهَ قِيٰمًا وَّقُعُوْدًا وَّعَلٰى جُنُوْبِكُمْ ۚ فَاِذَا اطْمَاْنَنْتُمْ فَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ ۚ اِنَّ
الصَّلٰوةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ كِتٰبًا مَّوْقُوْتًا ﴿۱۰۳﴾ وَلَا تَهِنُوْا فِى ابْتِغَآءِ الْقَوْمِ ؕ اِنْ تَكُوْنُوْا تَاْلَمُوْنَ
فَاِنَّهُمْ يَاْلَمُوْنَ كَمَا تَاْلَمُوْنَ ۚ وَتَرْجُوْنَ مِنَ اللّٰهِ مَا لَا يَرْجُوْنَ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ﴿۱۰۴﴾ اِنَّآ ع ۱۳

مریضان چه کیږدئ وسلے خپلے او اونیسئے بچاؤ خپل یقیناً اللّٰه تعالیٰ تیار کړے دے کافرانو لره عذاب شرمؤونکے (۱۰۲) پس کله چه فارغ شئے دَ مانځه نه پس یادوئے اللّٰه تعالیٰ په ولاړے اوپه ناستے اوپه اړخونوخپلو پس کله چه په آرام شئ تاسوپس پابندی کوئے دَ مانځه یقیناً مونځ دے په مؤمنانو باندے فرض وخت په وخت(۱۰۳) اوسستی مه کوئے (دَ مانځه دَ وجے نه) په لټولودَ قوم (دَکافرانوکښ دپاره دَ جنګ) که یئ تاسو دردمند (صبرکوئے) ځکه چه دوی هم درد مندشوی دی لکه چه تاسودرد مندیئ او امید لرئے تاسودَ اللّٰه تعالیٰ نه هغه چه دوی امید نه لری دَ هغے اودے اللّٰه تعالیٰ پوهه حکمتونو والا (۱۰۴) یقیناً

[۱۰۲] په دے ایت کښ طریقه دَ صلوٰة خوف ذکرشوے ده په دلیل دَ دے چه دا عطف دے په مخکے آیت باندے اوپه هغے کښ خوف ذکردے، چه یو یورکعت دَامام سره اویویوبه ځان له کوی اوپه حال دَ مانځه کښ دِ اسلحه ځان سره ساتی اوکه عذرئے وونو وسله دِ کیدی لیکن بیدار به اوسی ﴿فَاِذَاسَجَدُوْا﴾ دَ دے نه یورکعت پوره مراد دے اوسجده ئے ځکه ذکرکړله چه رَکعت پوره کیږی په سجده کولوسره ﴿فَلْيُصَلُّوْا مَعَكَ﴾ مراد دَ دے نه آخری رکعت کول دی دَ امام سره اوهرکله چه دَ امام مونځ په دے باندے ختم شو دَ دے وجے نه ئے دے ته صلوٰة اوئیل ﴿حِذْرَهُمْ﴾ مراد دَ دے نه بیدار اودریدل یا ځوکیدارساتل دی۔

[۱۰۳] دَ دے ایت یومطلب دا دے چه کله دَ مانځه نه فارغ شئے نودَ اللّٰه تعالیٰ ذکرنه په هیڅ حال کښ غفلت مه کوئے اودَ قضانه مرادفراغ دے، دویم مطلب دا دے چه کله مونځ کوئے په وخت دَسخته ویره کښ نوجدا جداکوئ ځوك په ولاړے ځوك په ناستے ځوك په پ پ ملاست اومراد دَقضانه اداکول دی په وخت دَ ډیرے یره کښ، اودَ دے ایت نه معلومه ده چه وقت پیژندل دَ مانځه دپاره فرض دی۔ اودَ هرمونځ دَپاره وقت شرعی هغه دے چه په صحیح حدیث سره ثابت وی نوپه سفرکښ جمع دَ دوه مونځونو (ظهراوعصر) په صحیح حدیث سره ثابت ده دارنګ(مغرب اوعشاء) دَ دے آیت سره ئے منافات نیشته دے۔

[۱۰۴] دا تیزی ده په قتال فی سبیل اللّٰه باندے چه دَ مانځه دَ وجے نه قتال کښ سستی اونه کړئ ﴿اِنْ تَكُوْنُوْا﴾ په دے کښ ترغیب دے قتال ته چه دَ زخم او درد رسیدلو په وجے سره قتال مه پریګدئے ځکه تاسوسرهٔ دَ درد نه دَ ثواب مستحق یئ۔

اَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ لِتَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ بِمَآ اَرٰىكَ اللّٰهُ ؕ وَلَا تَكُنْ لِّلْخَآئِنِيْنَ خَصِيْمًا ﴿۱۰۵﴾
وَّاسْتَغْفِرِ اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿۱۰۶﴾ وَلَا تُجَادِلْ عَنِ الَّذِيْنَ يَخْتَانُوْنَ اَنْفُسَهُمْ ؕ اِنَّ
اللّٰهَ لَا يُحِبُّ مَنْ كَانَ خَوَّانًا اَثِيْمًا ﴿۱۰۷﴾ يَّسْتَخْفُوْنَ مِنَ النَّاسِ وَلَا يَسْتَخْفُوْنَ مِنَ اللّٰهِ وَهُوَ مَعَهُمْ
اِذْ يُبَيِّتُوْنَ مَا لَا يَرْضٰى مِنَ الْقَوْلِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ بِمَا يَعْمَلُوْنَ مُحِيْطًا ﴿۱۰۸﴾ هٰٓاَنْتُمْ هٰٓؤُلَآءِ جٰدَلْتُمْ
عَنْهُمْ فِى الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۫ فَمَنْ يُّجَادِلُ اللّٰهَ عَنْهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اَمْ مَّنْ يَّكُوْنُ عَلَيْهِمْ وَكِيْلًا ﴿۱۰۹﴾

مونږ نازل کړے دے تاته کتاب په رشتیا دَ دے دپاره چه ته فیصلے اوکړے په مینځ دَ خلقو کښ په هغه طریقه چه خودلے ده تاته اللّٰه تعالیٰ اومه کیږه دَ خیانت کړو دپاره طرف دار (۱۰۵) اوبخنه غواړه دَ اللّٰه تعالیٰ نه یقیناً اللّٰه تعالیٰ دے بخنه کؤونکے رحم کؤونکے (۱۰۶) اوجګړه مه کوه دَ هغه کسانودَ طرف نه چه نقصانی کوی ځانونه خپل۔ یقیناً اللّٰه تعالیٰ مینه نه کوی دَ هغه چاسره چه وی ډیر خیانت کړ ګنهګار (۱۰۷) ځان پټوی دَ خلقونه اونه شی پټے دلے دوی دَ اللّٰه تعالیٰ نه ځکه چه هغه دَ دوی سره دے کله چه دوی جرګه کوی دَ هغه چه نه خوښوی اللّٰه تعالیٰ وینا، اودے اللّٰه تعالیٰ دَ دوی دَ عملونو راګیر ؤونکے (۱۰۸) خبردار تاسو اے خلقوجګړه کوئ دَ دوی دَ طرف نه په ژوند ډنیوی کښ پس څوك به جګړه اوکړی دَ اللّٰه تعالیٰ سره دَ دوی دطرف نه په ورځ دَ قیامت کښ، بلکه څوك به وی دَ دوی ذمه وار(۱۰۹)

[۱۰۵] دا اتم حکم دے چه فیصلے په کتاب اللّٰه اوسنت دَ رسول ﷺ سره کوئے اودَ مجرمانوطرفداری او وکالت مه کوئے خطاب رسول اللّٰه ﷺ ته دے لیکن حکم ټولو مسلمانانوته عام دے ﴿بِمَآ اَرٰىكَ اللّٰهُ﴾ په دے کښ سنت دَ نبی ﷺ ته اشاره ده۔

[۱۰۶] انبیاء علیهم السلام معصوم دی دَګناهونونه که واړه دی اوکه لوئے دی۔ اواستغفارمستلزم دَګناه نه دے بلکه دا خوبوعبادت دے چه معصوم ئیے هم کوی۔ نوانبیاء علیهم السلام ته دا خطاب دَ اُمت دَتعلیم دپاره دے او دَ تعبد دپاره دے دارنګ هغه خلاف اولی کارچه کول ئے ګناه نه دے ځکه فرمائی۔ حَسَنَاتُ الْاَبْرَارِ سَيِّئَاتُ الْمُقَرَّبِيْنَ، یا مراد دَ آیت نه استغفاردے دَپاره دَخائنینو هر کله چه هغوی توبه کوی۔

[۱۰۷] خطاب کښ مراد عام مؤمنان دی چه خیانت کوی په غلاکولو یا په دروغه قسم کولوسره لکه چه واقعه مفسرینو لیکلے ده اوبدصفات دَمنافقانوذکرکوی اوپدے ایتونوکښ اشاره ده واقعے دَ طعمه ته چه مفسرینوتفصیلاً لیکلے ده او دَ هغه منافق طرف داری اودروغ قسمونه دَ هغه دپاره نور ومنافقانو کول۔ ﴿خَوَّانًا اَثِيْمًا﴾ په دے دواړه صفاتوکښ اشاره ده غلاکولوته اوپه دروغه قسم کولوته۔

[۱۰۸] زورنه ده منافقانوته اودرے قبائح دَ هغوی ذکرکوی ﴿يَسْتَخْفُوْنَ﴾ دَ ځان پټولونه مراد حیا اوشرم کول دی۔

[۱۰۹] داهم زورنه ده منافقانوته او دا ایت دلیل دے چه وکالت دَ مجرم دَ طرف نه دَ دے دَپاره کول چه دَحق سزانه بچ شی دا وکالت ناجائز دے۔

وَمَنْ يَّعْمَلْ سُوْٓءًا اَوْ يَظْلِمْ نَفْسَهٗ ثُمَّ يَسْتَغْفِرِ اللّٰهَ يَجِدِ اللّٰهَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿۱۱۰﴾ وَمَنْ يَّكْسِبْ اِثْمًا
فَاِنَّمَا يَكْسِبُهٗ عَلٰى نَفْسِهٖ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ﴿۱۱۱﴾ وَمَنْ يَّكْسِبْ خَطِيْٓـَٔةً اَوْ اِثْمًا ثُمَّ يَرْمِ
بِهٖ بَرِيْٓـًٔا فَقَدِ احْتَمَلَ بُهْتَانًا وَّاِثْمًا مُّبِيْنًا ﴿۱۱۲﴾ وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكَ وَرَحْمَتُهٗ لَهَمَّتْ
طَّآئِفَةٌ مِّنْهُمْ اَنْ يُّضِلُّوْكَ ؕ وَمَا يُضِلُّوْنَ اِلَّآ اَنْفُسَهُمْ وَمَا يَضُرُّوْنَكَ مِنْ شَيْءٍ ؕ وَاَنْزَلَ اللّٰهُ
عَلَيْكَ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَعَلَّمَكَ مَا لَمْ تَكُنْ تَعْلَمُ ؕ وَكَانَ فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكَ عَظِيْمًا ﴿۱۱۳﴾ لَا خَيْرَ
فِيْ كَثِيْرٍ مِّنْ نَّجْوٰىهُمْ اِلَّا مَنْ اَمَرَ بِصَدَقَةٍ اَوْ مَعْرُوْفٍ اَوْ اِصْلَاحٍ بَيْنَ النَّاسِ ؕ وَمَنْ يَّفْعَلْ

اوچاچه عمل اوکړو بد، یاظلم ئے اوکړوپه ځان خپل بیابخته اوغواړی دَ اللّٰه تعالیٰ نه اوبه مومی اللّٰه تعالیٰ بخونکے رحم کۆونکے (۱۱۰) اوچاچه اوکړو ګناه یقیناً کوی هغه چه(ضرر ورکوی) ځان خپل ته اودے اللّٰه تعالیٰ پوهه حکمتونو والا(۱۱۱) اوچاچه اوکړو ورپوکے ګناه یالوئے ګناه بیا بدنام کړی په هغے سره پاکدامن پس یقیناً پورته کړه دهٔ لویه بدنامه اوګناه ښکاره (۱۱۲) اوکه نه وے فضل دَ اللّٰه تعالیٰ په تاباندے اورحمت دَ هغه (نودوی به تهٔ خطاکړے وے) ځکه چه پوخ قصد کړے ۆویوډلے دَ دوینه چه خطاکړی تا (په فیصله کښ) اونه خطا کوی دوی مګرځانونه خپل اوضرر نشی رسولے تاته دوی هیڅ ضرر اونازل کړے دے اللّٰه تعالیٰ په تاباندے کتاب اوسنت اوپوهه درکړے ده، دَهغه څه چه ته پرے نه پوهیدے اودے فضل دَ اللّٰه تعالیٰ په تاباندے لوئے (۱۱۳)اونیشته هیڅ فائده په ډیروجرګودَ دوی کښ مګرجرګه دَ هغه چاچه حکم کوی په صدقے سره یاپه نیك کاریاپه صلح کولو سره په مینځ دَ خلقو کښ۔اوچاچه کۆو

[۱۱۰] دے ایت کښ ترغیب دے استغفار اوتوبے کولوته که ورپوکے ګناه وی او که لوئے وی ﴿سُوْٓءً﴾ مراد دَ دے نه ګناه صغیره دے ﴿اَوْ يَظْلِمْ نَفْسَهٗ﴾ مراد دَ دے نه ګناه کبیره دے۔

[۱۱۱] دے ایت کښ رد دے په وهم دَ هغه چا باندے چه دَ خپل ګناه بوج په بل چا باندے ګنړی ﴿اِثْمًا﴾ صغیره اوکبیره ټولو ګناهونوته شامل دے۔

[۱۱۲] دے ایت کښ منع ده په بل چا باندے دَ بدنامئ لګولونه ﴿خَطِيْٓـَٔةً﴾ هغه ګناه چه ورپوکے وی اوقصداً نه وی یا هغه چه دَ اللّٰه تعالیٰ او بنده په مینځ کښ دی۔ اثم، غټ ګناه چه قصداً ئے کړے وی یاپه حقوق دَ بندګانو کښ ظلم اوکړی۔

[۱۱۳] دا ایت دلیل دے په عصمت دَنبی ﷺ باندے ﴿اَنْ يُّضِلُّوْكَ﴾ مراد دَ دے نه خطاکول دَ نبی ﷺ دی په حقه فیصله کښ ﴿فَضْلُ﴾ نه مراد وحی ده او رحمت نه مراد عصمت دے۔ او ایت دلیل دے چه څوك بل چالره ګمراه کوی نوهغه پخپله ګمراه شو ﴿مَالَمْ تَكُنْ﴾مرادپه دے سره واقعة دَمنافق ده ځکه که عام مرادشی نودَ دے ایت نه روستووحی ته حاجت نه رائحی نووحی بے فائدے کیږی اودَ دے نه روستوسورة توبه نازل شوے ده، اوپه هغے کښ نفی دَعلم غیب ده دَنبی ﷺ نه دَهغے تکذیب لازمیږی۔

ذٰلِكَ ابْتِغَآءَ مَرْضَاتِ اللّٰهِ فَسَوْفَ نُؤْتِيْهِ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿۱۱۴﴾ وَمَنْ يُّشَاقِقِ الرَّسُوْلَ مِنْۢ بَعْدِ مَا
تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدٰى وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيْلِ الْمُؤْمِنِيْنَ نُوَلِّهٖ مَا تَوَلّٰى وَنُصْلِهٖ جَهَنَّمَ ؕ وَسَآءَتْ مَصِيْرًا ﴿۱۱۵﴾
اِنَّ اللّٰهَ لَا يَغْفِرُ اَنْ يُّشْرَكَ بِهٖ وَيَغْفِرُ مَا دُوْنَ ذٰلِكَ لِمَنْ يَّشَآءُ ؕ وَمَنْ يُّشْرِكْ بِاللّٰهِ فَقَدْ ضَلَّ
ضَلٰلًا بَعِيْدًا ﴿۱۱۶﴾ اِنْ يَّدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖۤ اِلَّاۤ اِنٰثًا ۚ وَاِنْ يَّدْعُوْنَ اِلَّا شَيْطٰنًا مَّرِيْدًا ﴿۱۱۷﴾ لَّعَنَهُ اللّٰهُ ۘ

داکاردپاره دَ طلب دَ رضا دَاللّٰه تعالیٰ پس زردے چه وربه کړومونږهغه ته ثواب لوئے (۱۱٤) اوچاچه خلاف اوکړودَ رسول(ﷺ) نه روستودَ هغے نه چه ښکاره شوهغه ته هدایت اوروان شوپه غیرد لارے دَ مؤمنانو (صحابؤ) نووابه ړؤو دهٔ لره کوم خواته چه دے واوړیدو اوداخل به کړو دے جهنم ته اوبد دے ځائے دَ ورتللو (۱۱۵) یقیناً اللّٰه تعالیٰ نه بخی چه شرك اوکړے شی دَ هغه سره اوبخی نورهغه ګناهونه چه کم دی دَ هغے نه چالره چه اوغواړی۔ اوچاچه شرك اوکړودَ اللّٰه سره پس یقیناً ګمراه شوپه ګمراهئ لرے سره (۱۱٦) نه رابلی دوی سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه مګر زنانه او نه بلی دوی مګرشیطان سرکش لره (۱۱۷) لعنت کړے دے په هغه باندے اللّٰه تعالیٰ

[۱۱٤] داهم رد دے په منافقانو باندے چه دَ ګناهونو دپاره ئے جرګے کولے ﴿بِصَدَقَةٍ﴾ لکه چنده جمع کول دپاره دَ ضرورت شرعی ﴿اَوْ مَعْرُوْفٍ﴾ لکه دَ دعوت اوتبلیغ دَ دین دپاره مشوره کول ﴿اَوْ اِصْلَاحٍ﴾ مخکښ دواړه دَ فائدے رسولوکارونه دی، اول جسمانی،دویم روحانی۔اودا دپاره دَ دفع دَ شراوفساد ده لیکن په دے کښ نیت دَ رضا دَ اللّٰه تعالیٰ ضروری دے ﴿لَا خَيْرَ﴾ دا لفظ په شرع کښ دَ نیشتوالی دَجواز دپاره دے په تاکید سره۔

[۱۱۵] دَ شان دَ نبی ﷺ دَ بیان کولونه روستو دَ هغه مخالفینوته اُخروی یره ورکوی ﴿الْمُؤْمِنِيْنَ﴾ نه مراد صحابه کرام دی، الف لام عهدی دی نومراد دَ ایت دا دے چه دَ سنت دَ نبی ﷺ اواتباع دَ جماعت دَ صحابونه ځوك خلاف کوی نوهغه جهنمی دے اوهغه ته غلطه لاره به ښه ښکاریږی۔ مفسرینولیکلی دی چه دَ دے سبیل المؤمنین نه استدلال کړے شوے دے چه اجماع دَ دے اُمت دلیل شرعی دے لیکن روستودَ کتاب اوسنت نه۔

[۱۱٦] دے ایت کښ رد دَ شرك دے یعنی دَ نبی ﷺ اودَ صحابونه لوئے مخالفت شرك کول دی۔

فائده: په دے ایت کښ رد دے په شرك دَ امیانو باندے نوګمراهی ئے ځکه ذکرکړه چه امیان دَ دے لفظ نه ډیر یریږی، او په ایت(٤٨) دَ دے سورة کښ رد وو په شرك دَ ملایانو هغوی ورله دلیلونه ګوری، ځکه ئے هلته افتراء لفظ ذکرکړے وؤ۔ په دے آیت کښ رد دے په خوارجو باندے چه هغوی په ارتکاب کبیره سره بغیر دَ شرك نه مسلمان ته کافروائی۔

[۱۱۷] په دے کښ رد دے دَ شرك فی الدعاء ﴿اِنَاثًا﴾ نه مراد ملائك دی په ګمان دَدوی کښ، یا رد دے په هغه مشرکانو چه مؤنث نه ئے معبود جوړکړے دے لکه عُزّیٰ اوبعل وغیره یا دَ دے مرادکمزوری دی ځکه کمزورو والے لازم دے دَ مؤنث سره، ذکردَ ملزوم مرادترینه لازم دے۔ او دَ شیطان دَبلنے مطلب دا دے چه شیطان سبب دے دَ دے په وسوسه کولو یا داوجه ده چه شیطان به دَ دوی په معبودانوکښ دننه داخلیدلواو دوی

وَ قَالَ لَاَتَّخِذَنَّ مِنْ عِبَادِكَ نَصِيْبًا مَّفْرُوْضًا ﴿۱۱۸﴾ وَّلَاُضِلَّنَّهُمْ وَلَاُمَنِّيَنَّهُمْ وَلَاٰمُرَنَّهُمْ فَلَيُبَتِّكُنَّ
اٰذَانَ الْاَنْعَامِ وَلَاٰمُرَنَّهُمْ فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلْقَ اللّٰهِ ؕ وَمَنْ يَّتَّخِذِ الشَّيْطٰنَ وَلِيًّا مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ فَقَدْ
خَسِرَ خُسْرَانًا مُّبِيْنًا ﴿۱۱۹﴾ يَعِدُهُمْ وَيُمَنِّيْهِمْ ؕ وَمَا يَعِدُهُمُ الشَّيْطٰنُ اِلَّا غُرُوْرًا ﴿۱۲۰﴾ اُولٰٓئِكَ مَاْوٰىهُمْ
جَهَنَّمُ ز وَلَا يَجِدُوْنَ عَنْهَا مَحِيْصًا ﴿۱۲۱﴾ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ سَنُدْخِلُهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ
مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ؕ وَعْدَ اللّٰهِ حَقًّا ؕ وَمَنْ اَصْدَقُ مِنَ اللّٰهِ قِيْلًا ﴿۱۲۲﴾ لَيْسَ

اودهٔ ویلی دی خامخا جوړه ؤم دَ بند ګانوستانه برخه مقرره (۱۱۸) اوضرور ګمراهئ ته به بلم دوی لره اوضرور امیدونه به ورکؤومه دوی ته اوضرورخایم به دویته پس پرے کوی به غوږونه دَ ځارؤو، اوضرورخایم به دویته پس بدلوی به جوړخ دَ اللّٰه تعالیٰ۔ اوچاچه اونیؤو شیطان دوست (تابعداری کړے شوے) سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه پس یقیناً تاوان ئے اوکړو تاوان ښکاره (۱۱۹) وعدے کوی شیطان دَ دوی سره اوامیدونه اچوی دویته، او وعده نه کوی دَ دوی سره شیطان مګردهوکے والا (۱۲۰) دغه کسان ځائے دَ دوی جهنم دے اونه به مومی دَ هغے نه ځائے دَ تیختے (۱۲۱) اوهغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے اوعمل ئے کړے دے په طریقه دَ نبی(ﷺ) سره زردے داخل به ئے کړو جنتونوته چه بهیږی لاندے دَ هغے نه ولے همیشه به وی په هغے کښ همیشه وعده کړے ده اللّٰه تعالیٰ یقینی ئے ګرځولے ده او څوك دے ډیر رشتینے دَ اللّٰه نه په وینا کښ(۱۲۲) نه دے (دین اوجزاموقوف)

سره به ئے خبرے کولے لکه اوس چه دَبعضے قبرونونه شیطان خپه یالاس را اوباسی اوخلق دهوکه کوی اوصاحب دَ قبربالکل خبرهم نه وی۔ دَ اول دُعا نه مراد دُعا دَ عبادت ته رابلل دَ حاجت روائے دپاره اودَ دویم دُعا نه مراد تابعداری کول دی۔

[۱۱۸] دَ بندګانونه برخه نیول دا دی چه څوك ئے مشرکان اوګرځول یائے څوك نومونه شرکیه کیدی۔ اوخوك دَ هغه تابعداری کوی۔

[۱۱۹] ﴿وَلَاُمَنِّيَنَّهُمْ﴾ امیدونه ورکول دا دی چه ګناه ورته طاعت ښکاره کړی او هغه بدعت دے ﴿اٰذَانَ الْاَنْعَامِ﴾ هغه ځاروی چه دوی په ځان باندے حرام کړی او غوږئے ورله غوځ کړے وی دپاره دَ علامت اوهغے ته بحیره وائی ﴿خَلْقَ اللّٰهِ﴾ دَ اللّٰه تعالیٰ جوړخ یعنی دَ انسان شکل دے چه دَشرع دَ حکم نه بغیرئے بدلوی سړے ځان دَ بنځے سره مشابه کوی اوبنځه ځان دَسړی سره مشابه کړی ګیره خریل اودَموټی نه کمول هم پدیکښ داخل دی بل جوړخ دَاللّٰه تعالیٰ دین دَ اللّٰه تعالیٰ دے چه هغه توحید اوسنت دے چه دوی ئے په شرك اوبه بدعت سره بدلوی۔

[۱۲۰] وعده دا ده چه په معصیت سره طمع دَجنت ورکوی او ارزوګانے دَ زیات عمرورکوی۔

[۱۲۱] داویره اُخروی ده ﴿مَحِيْصًا﴾ ځائے دَتختیدلو اوځائے دَ پناهئے ته وئیلے شی۔

[۱۲۲] دا زیرے اُخروی دے ﴿وَعْدَاللّٰهِ حَقًّا﴾ دَ دے سره فعلونه پټ دی وعد اللّٰه وعداً وَحقّه حقاً۔

بِاَمَانِيِّكُمْ وَلَآ اَمَانِيِّ اَهْلِ الْكِتٰبِ ؕ مَنْ يَّعْمَلْ سُوْٓءًا يُّجْزَ بِهٖ ۙ وَلَا يَجِدْ لَهٗ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلِيًّا
وَّلَا نَصِيْرًا ﴿۱۲۳﴾ وَمَنْ يَّعْمَلْ مِنَ الصّٰلِحٰتِ مِنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَاُولٰٓئِكَ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ
وَلَا يُظْلَمُوْنَ نَقِيْرًا ﴿۱۲۴﴾ وَمَنْ اَحْسَنُ دِيْنًا مِّمَّنْ اَسْلَمَ وَجْهَهٗ لِلّٰهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ وَّاتَّبَعَ مِلَّةَ
اِبْرٰهِيْمَ حَنِيْفًا ؕ وَاتَّخَذَ اللّٰهُ اِبْرٰهِيْمَ خَلِيْلًا ﴿۱۲۵﴾ وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ
بِكُلِّ شَيْءٍ مُّحِيْطًا ﴿۱۲۶﴾ ع وَيَسْتَفْتُوْنَكَ فِي النِّسَآءِ ؕ قُلِ اللّٰهُ يُفْتِيْكُمْ فِيْهِنَّ ۙ وَمَا يُتْلٰى عَلَيْكُمْ

په خواهشاتو ستاسو اونه په خواهشاتودَ کتاب والو، چاچه عمل اوکړو بد عمل (شرك) بدله به ورکړے شی دَ هغے اونه به مومی ځان لره سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه دوست بچ کؤونکے اونه امدادی (۱۲۳) اوچاچه عمل اوکړو دَ نیکو اعمالونه نارینه وی اوکه زنانه وی اودے وی مؤحد پس دغه کسان به داخلیږی جنت ته اوظلم نشی کیدے په دوی باندے په قدر دَ داغ دَ هلیو کی دَکهجورے (۱۲٤) اوځوك خائسته دین والا دے دَ هغه چانه چه تابع ئے کړو مخ خپل خاص اللّٰه تعالیٰ ته او دے ؤو خائسته عمل والا او تابع داروی دَ دین دَ ابراهیم(علیه السلام) چه پوخ مؤحد ؤو اونیولے دے اللّٰه تعالیٰ ابراهیم(علیه السلام) لره دوست (۱۲۵) اوخاص دَ اللّٰه تعالیٰ په اختیارکښ دی هغه څه چه اسمانونو کښ دی اوهغه څه چه په زمکه کښ دی اودے اللّٰه تعالیٰ په هرڅیزباندے راکیر ؤونکے (په علم اوپه قدرت کښ) (۱۲٦) اوتپوس کوی دوی ستانه په باره دَ زنانؤ کښ اُوایه اللّٰه تعالیٰ پوخ حکم کوی تاسو ته په باره دَ دوی کښ اوهغه حکم هم دے چه بیانیږی په تاسوباندے

[۱۲۳] دا زجردے او مطلب دَ ایت دا دے چه دین دَ عوامو اودَ ملایانو دَ خواهشانو تابع ندے ځکه چه دین دَ خواهشاتوشرك او بدعت دے او دارنګ جزا دَ دوی دَ خواهش تابع نده چه شرك کوی اوجزابه ورته نشی ورکیدے دا خیال ئے غلط دے ﴿سُوْٓءًا﴾ کفراوشرك مراد دے چه په هغے باندے سزا ورکول لازم دی اوکه عام مرادشی نومرادترینه هغه ګناه دے چه اللّٰه تعالیٰ ئے معاف نه کړی او ﴿يُّجْزَ بِهٖ﴾ جزاهم عامه ده هرتکلیف اوغم چه په انسان باندے راځی تردے پورے چه ازغے ئے په خپه کښ مات شی نو داهم دَ مسلمان دَ ګناه بدله کیدے شی۔

[۱۲٤] دازیرے دے اُخروی او بیان دَ حاصل دَدین دے چه ایمان او عمل صالح دے ﴿ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى﴾دا رد دے په هغه چاباندے چه دَمؤنث دومره تحقیر کوی چه دَ بدلے دَنیك عمل نه ئے هم محرومه ګنړی۔

[۱۲۵] داعلت دَ مخکنی زیری دے چه جنت ته ځکه داخلیږی چه دین ئے خائسته دے په موافقت دَ دین ابراهیمی سره ﴿اَسْلَمَ﴾ دلته اسلام په معنیٰ دَ تابعدارئے کولودے اواحسان په معنیٰ دَ توحید اواخلاص سره دے ﴿خَلِيْلًا﴾ خالص دوست ته وئیلے شی چه دَ هغه په زړه کښ دَ بل چا دوستانے دپاره ځائے نه وی۔

[۱۲٦] دا مسئله دَ توحید ده چه واکدار اواختیارمند صرف اللّٰه تعالیٰ دے اوغیب دان هم صرف اللّٰه تعالیٰ دے اودا خلاصه دَ صفاتودَ اللّٰه تعالیٰ ده اوخلاصه دَ دین ابراهیمی ده۔

فِي الْكِتٰبِ فِيْ يَتٰمَى النِّسَآءِ الّٰتِيْ لَا تُؤْتُوْنَهُنَّ مَا كُتِبَ لَهُنَّ وَتَرْغَبُوْنَ اَنْ تَنْكِحُوْهُنَّ وَ
الْمُسْتَضْعَفِيْنَ مِنَ الْوِلْدَانِ ۙ وَاَنْ تَقُوْمُوْا لِلْيَتٰمٰى بِالْقِسْطِ ؕ وَمَا تَفْعَلُوْا مِنْ خَيْرٍ فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ
بِهٖ عَلِيْمًا ﴿۱۲۷﴾ وَاِنِ امْرَاَةٌ خَافَتْ مِنْۢ بَعْلِهَا نُشُوْزًا اَوْ اِعْرَاضًا فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَآ اَنْ يُّصْلِحَا
بَيْنَهُمَا صُلْحًا ؕ وَالصُّلْحُ خَيْرٌ ؕ وَاُحْضِرَتِ الْاَنْفُسُ الشُّحَّ ؕ وَاِنْ تُحْسِنُوْا وَتَتَّقُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِمَا
تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا ﴿۱۲۸﴾ وَلَنْ تَسْتَطِيْعُوْٓا اَنْ تَعْدِلُوْا بَيْنَ النِّسَآءِ وَلَوْ حَرَصْتُمْ فَلَا تَمِيْلُوْا كُلَّ الْمَيْلِ فَتَذَرُوْهَا
كَالْمُعَلَّقَةِ ؕ وَاِنْ تُصْلِحُوْا وَتَتَّقُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿۱۲۹﴾ وَاِنْ يَّتَفَرَّقَا يُغْنِ اللّٰهُ كُلًّا مِّنْ

په دے کتاب کښ (دے سورت کښ) په باره دَ یتیمو زنانۂ کښ هغه دی چه نه ورکوئے تاسو دویته هغه چه مقرر کړے شوے دے دوی لره اوغواړئے تاسوچه نکاح اوکړئے دَ دوی سره اوپه باره دَکمزورو ورړو کښ (دَ ټولودَ حق اداکولو) اوچه کلك شئے دپاره دَ یتیمانو په انصاف سره اوهغه چه کوئے تاسو څه نیك کار پس یقیناً اللّٰه تعالیٰ دے په هغه باندے پوهه (۱۲۷) اوکه یوه زنانه ویریږی دَ خاوند خپل نه دَ بدخویئ (طبعاً) یا دَمخ ګرځولو(قصداً) پس ګناه نیشته په دے دواړو باندے چه روغه اوکړی په مینځ دَ دواړو کښ روغه کول، او روغه کول غوره کار دے اوکیخودلے شوے دے په زړونو کښ حرص اوکه څه ژوند کوئے دَ دوی سره اوځان بچ کوئے (دَ اختلاف نه) پس یقیناً اللّٰه تعالیٰ دے ستاسو په عملونو باندے خبردار (۱۲۸) اوهیڅ چرے طاقت نه لرئے چه انصاف اوکړئے په مینځ دَ زنانوکښ (په مینه کولوکښ) اګرچه حرص کوئے تاسو پس مه کړیګئ یوے ته په پوره کړیدلو سره پس چه پریګدئے هغه بله پشان دَ زوړندے اوکه اصلاح کوئے تاسواوځان ساتئے (دَ ظلم دَ بنځونه) پس یقیناً اللّٰه تعالیٰ دے بخنه کوونکے رحم کوونکے (۱۲۹)اوکه جداشول دواړه نوبے پرواه به کړی اللّٰه تعالیٰ هریو لره په وجه دَ

[۱۲۷] دا ایت تنویر(زیات وضاحت) دے په (۳) باندے دَ عائشة رضی اللّٰه عنها نه روایت دے چه دا ایت دَ هغه چاپه باره کښ دے چه یتیمه جینئے به دَ هغه په تربیت کښ وه نوکه هغه به مالداره اوحسن داره وه نودهٔ به رغبت کوودَ هغے په نکاح کښ لیکن مهرد هغے به ئے نه ورکوؤ، اوکه داسے به نه وه نوبیا به ئے اعراض کوودَ هغے دَ نکاح نه، اودارنګ په ورړوبچواوپه یتیمانوبه ئے ظلمونه کول۔ نودے ایت کښ ئے اوفرمائیل چه دَ دے ټولوسره انصاف کوئے او رد دے په طریقه دَ جاهلیت باندے هغه دا ده چه څوك به دَ جنګ کولو اهل نه وو لکه زنانه، واړه بچی نوهغوی له به ئے په میراث کښ حصه نه ورکوله ﴿وَمَا يُتْلٰى﴾ مراد دَ دے نه دَ دے سورة ابتدائی آیاتونه دی په باره دَ نکاح اومهر اومیراث دَ زنانۂ کښ ﴿وَتَرْغَبُوْنَ﴾ رغبت په معنیٰ دَ میلان کولواودَ اعراض کولوباندے استعمالیږی دلته دواړه معنے صحیح دی۔

[۱۲۸] دا ایت تنویردے په (۳٤) باندے هلته حکم وو دَبدخویه زنانۂ، او دلته حکم دے دَبدخویه خاوند، اوترغیب دے په صلح کولوباندے ﴿نُشُوْزًا﴾ مخالفت ظاهری اواعراض مخالفت باطنی یا نشوزطبعی خفګان اواعراض قصداً خفګان کولوته وئیلے شی ﴿الشُّحَّ﴾ بخل دے سرهٔ دَ حرص نه یعنی طبعی عادت دے دَ نفسونو۔

[۱۲۹] دا ایت متعلق دے په مخکښ ایت پورے۔ چه خاوند له نشوز اواعراض ندے پکار یعنی برابری دَ

سَعَتِهٖ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ وَاسِعًا حَكِيْمًا ﴿۱۳۰﴾ وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ وَلَقَدْ وَصَّيْنَا الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَاِيَّاكُمْ اَنِ اتَّقُوا اللّٰهَ ؕ وَاِنْ تَكْفُرُوْا فَاِنَّ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ غَنِيًّا حَمِيْدًا ﴿۱۳۱﴾ وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيْلًا ﴿۱۳۲﴾ اِنْ يَّشَاْ يُذْهِبْكُمْ اَيُّهَا النَّاسُ وَيَاْتِ بِاٰخَرِيْنَ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى ذٰلِكَ قَدِيْرًا ﴿۱۳۳﴾ مَنْ كَانَ يُرِيْدُ ثَوَابَ الدُّنْيَا فَعِنْدَ اللّٰهِ ثَوَابُ الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ سَمِيْعًا بَصِيْرًا ﴿۱۳۴﴾ ع يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُوْنُوْا ع ۱۹/۱۲

فضل خپل او دے اللّٰه تعالیٰ فراخ فضل والاحکمتونو والا(۱۳۰) اوخاص دَ اللّٰه تعالیٰ په اختیار کښ دی هغه څه چه په اسمانونو کښ دی اوهغه څه چه په زمکه کښ دی او یقیناً پوخ حکم ورکړے دے مونږ هغه کسانوته چه ورکړے شوے دے ورته کتاب مخکے ستاسونه اوتاسوته چه ویره کوئے دَ اللّٰه تعالیٰ نه اوکه کفراوکړوتاسوپس یقیناً دَ اللّٰه تعالیٰ اختیار کښ دی هغه څه چه په اسمانونو کښ دی اوهغه څه چه په زمکه کښ دی اودے اللّٰه تعالیٰ بے حاجته ستائلے شوے(۱۳۱) او خاص دَ اللّٰه تعالیٰ په اختیارکښ دی هغه څه چه په اسمانونو کښ دی اوهغه څه چه په زمکه دی اوپوره دے اللّٰه تعالیٰ کارجوړ ژونکے(۱۳۲) که اوغواړی اللّٰه تعالیٰ فنابه کړی تاسو اے خلقو او رابه ولی نور خلق، اودے اللّٰه تعالیٰ په دے باندے قدرت والا (۱۳۳) څوك چه طلب کوی (په عمل خپل سره) بدله دَ دُنیا، پس دَ اللّٰه تعالیٰ سره بدله دَ دُنیا اوآخرت دواړو ده (پس دواړه دِ طلب کړی) اودے اللّٰه تعالیٰ اوریدونکے لیدونکے دَ هرڅه (۱۳٤) اے ایمان والو: شئے

ښځوپه مینځ کښ دَ زړه په محبت کښ نشی کیدے لیکن په حقوقواداکولوکښ طرفداری مه کوئے۔ ﴿وَلَوْ حَرَصْتُمْ﴾ لووصلیه دے یعنی اگرچه تاسو حرص دَعدل کوئے (په مینه کولوکښ) لیکن داستاسودَ طاقت نه بهردے نو دلته دَ عدل نه مراد مساوات کول دی په غیر اختیاری کارونو کښ۔اوپه (۳) کښ مراد دَ عدل نه برابری په حقوق اختیاری کښ وه۔

[۱۳۰] دا تسلی په وخت دَ عدم اصلاح کښ ده۔ یعنی خاوندله به بله ښځه ورکړی اوزنانه له به بل خاوند ورکړی۔

[۱۳۲،۱۳۱] پدے کښ دعویٰ دَ توحید درے کرته ده۔ دَاول مطلب دادے چه ویره دَیواللّٰه تعالیٰ نه کوئے ځکه چه ټول اختیارات دَیواللّٰه تعالیٰ دی۔دَ دویم مطلب دا دے چه سوال صرف دَیواللّٰه تعالیٰ نه کوئے۔دَ دریم مطلب دا دے چه توکل صرف په اللّٰه تعالیٰ باندے کوئے ځکه چه وکیل صرف اللّٰه تعالیٰ دے۔اودا درے واړه امور(ویره دَاللّٰه تعالیٰ نه، سوال کول، توکل کول) دَپاره دَ ادائیګئے دَ حقوقودَ زنانودی ﴿وَاِنْ تَكْفُرُوْا﴾ دَ دے جزا پټه ده چه فَاِنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ عَنْكُمْ، (اللّٰه تعالیٰ غنی دے ستاسونه)۔

[۱۳۳] داهم دلیل دَتوحید دے او ورسره تخویف دُنیوی دے۔

[۱۳٤] دا ترغیب دے اخرت ته چه اللّٰه تعالیٰ نه دُنیا او اخرت دواړه غواړئے یواځے دُنیا مه غواړئے۔ ﴿ثَوَابَ الدُّنْيَا﴾ دَ دے نه مراد اراده دَ بدلے دَ نیك عمل ده په دُنیا کښ چه په هغے سره عمل بربادیږی۔

قَوّٰمِيْنَ بِالْقِسْطِ شُهَدَآءَ لِلّٰهِ وَلَوْ عَلٰٓى اَنْفُسِكُمْ اَوِ الْوَالِدَيْنِ وَالْاَقْرَبِيْنَ ۚ اِنْ يَّكُنْ غَنِيًّا اَوْ فَقِيْرًا
فَاللّٰهُ اَوْلٰى بِهِمَا ۣ فَلَا تَتَّبِعُوا الْهَوٰٓى اَنْ تَعْدِلُوْا ۚ وَاِنْ تَلْوٗٓا اَوْ تُعْرِضُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ
خَبِيْرًا ﴿۱۳۵﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَالْكِتٰبِ الَّذِيْ نَزَّلَ عَلٰى رَسُوْلِهٖ وَالْكِتٰبِ الَّذِيْٓ
اَنْزَلَ مِنْ قَبْلُ ۭ وَمَنْ يَّكْفُرْ بِاللّٰهِ وَمَلٰۗىِٕكَتِهٖ وَكُتُبِهٖ وَرُسُلِهٖ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًۢا
بَعِيْدًا ﴿۱۳۶﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ثُمَّ كَفَرُوْا ثُمَّ اٰمَنُوْا ثُمَّ كَفَرُوْا ثُمَّ ازْدَادُوْا كُفْرًا لَّمْ يَكُنِ اللّٰهُ لِيَغْفِرَ لَهُمْ

کلك په انصاف حق بیان کۆونکی شئ دپاره دَ اللّٰه تعالیٰ اګرچه نقصان وی په تاسوباندے یاپه مور اوپلار باندے یاپه خپلوانو باندے که وی هغه غنی یافقیر پس اللّٰه تعالیٰ زیات مهربان دے په دے دواړو باندے۔ پس تابعداری مکوئے دَ خواهش چه اوبه نه کړئے انصاف اوکه ژبه اړوئے یامخ اړوئے (دَ حق بیان نه) پس یقیناً اللّٰه تعالیٰ دے ستاسوپه عملونو باندے خبردار (۱۳۵) اے ایمان والو (په ژبه) یقین اوکړئے (په زړه کښ) په اللّٰه تعالیٰ اوپه رسول دَ هغه اوپه کتاب هغه چه نازل کړے دے په رسول خپل باندے اوپه هغه کتابونو چه نازل کړی دی دَ دینه مخکے، اوچاچه کفر اوکړو په اللّٰه تعالیٰ اوپه ملائکودَ هغه او په کتابونو دَ هغه او په رسولانودَ هغه اوپه ورځ روستنئے پس یقیناً ګمراه شوپه ګمراهئ لرے(۱۳۶) یقیناً هغه کسان چه ایمان ئے راوړو بیائے کفر اوکړو بیائے ایمان راوړو بیائے کفر اوکړو بیا زیات شول په کفر کښ (مړه شول په کفر باندے) ندے اللّٰه تعالیٰ چه بخنه اوکړی دویته

[۱۳۵] دا ایت دَدے حصے تتمه ده جواب دَ سوال دے که څوك سوال اوکړی چه پدے تیرشوی احکام الٰهیۂ کښ څوك دَ ځان دپاره یا مور اوپلار یا خپلوانو دپاره لحاظ کوی یا دَ مالدار دَ مال لحاظ اوکړی یا دَ غریب دَ غریبئے لحاظ اوکړی اودَ دوی دَپاره دَ حق بیان پټ کړی نو دے ایت کښ دَ دے جواب اوشوچه دَ خواهش دَ تابعدارئے په وجه دَ دے کسانو رعایت کول اوعدل پریخودل جائزنه دی بلکه ژبه اړول دَ حق دَ بیان نه او اعراض کول دَ هغے نه دواړه حرام دی ﴿بِالْقِسْطِ﴾ هرحق جانب که په عقیده کښ اوکه په عملونوکښ وی په عباداتوکښ اوکه په معاملاتوکښ وی ټولوته شامل دی ﴿شُهَدَآءَ﴾ شهادت بیان دَ حق دے اوګواهی ورکول دَ یودعویٰ دَپاره عام مراد دے ﴿اَنْ تَعْدِلُوْا﴾ لا یا مخافة لفظ پټ مراد دے۔

[۱۳۶] دَ دے ایت نه تراخره پورے دریمه حصه ده په دے کښ درے بابونه دی اول باب تر(۱۴۹) پورے دے پدے کښ اول ذکرد ایمانیاتودے اومنافقانوته دَ صحیح ایمان دعوت دے بیا منافقانوته زورنے اودَ هغوی قبائح (بدصفات) اوعذاب ئے ذکرکړے دے اودَ هغوی دَ توبے شرطونه ئے بیان کړی دی ﴿اٰمِنُوْا﴾ دَ دینه مراد ایمان دے په زړه سره ﴿مَلٰۗىِٕكَتِهٖ، وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ﴾ په دے ذکر کولو کښ اشاره ده چه انکار دَ ملائکو یا دَ آخرت نه دَ ایمان شرعی سره منافی دے۔

وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ سَبِيْلًا ﴿۱۳۷﴾ بَشِّرِ الْمُنٰفِقِيْنَ بِاَنَّ لَهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ۙ﴿۱۳۸﴾ الَّذِيْنَ يَتَّخِذُوْنَ الْكٰفِرِيْنَ
اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ ؕ اَيَبْتَغُوْنَ عِنْدَهُمُ الْعِزَّةَ فَاِنَّ الْعِزَّةَ لِلّٰهِ جَمِيْعًا ﴿۱۳۹﴾ وَقَدْ نَزَّلَ عَلَيْكُمْ
فِي الْكِتٰبِ اَنْ اِذَا سَمِعْتُمْ اٰيٰتِ اللّٰهِ يُكْفَرُ بِهَا وَيُسْتَهْزَاُ بِهَا فَلَا تَقْعُدُوْا مَعَهُمْ حَتّٰى يَخُوْضُوْا فِيْ
حَدِيْثٍ غَيْرِهٖۤ ۚ اِنَّكُمْ اِذًا مِّثْلُهُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ جَامِعُ الْمُنٰفِقِيْنَ وَالْكٰفِرِيْنَ فِيْ جَهَنَّمَ جَمِيْعًا ۙ﴿۱۴۰﴾ الَّذِيْنَ
يَتَرَبَّصُوْنَ بِكُمْ ۚ فَاِنْ كَانَ لَكُمْ فَتْحٌ مِّنَ اللّٰهِ قَالُوْۤا اَلَمْ نَكُنْ مَّعَكُمْ ۖ وَاِنْ كَانَ لِلْكٰفِرِيْنَ نَصِيْبٌ ۙ قَالُوْۤا

اونه به روانوی دوی په حقه لاره باندے(۱۳۷) زیږے ورکړه منافقانوته چه یقیناً دوی لره عذاب دے درد ناك(۱۳۸) دوی هغه خلق دی چه نیسی کافرانو لره دوستان سیوا دَ مؤمنانونه آیاغواړی دوی دَ هغوئ سره عزت پس یقیناً اختیاردَ عزت خاص اللّٰه تعالیٰ لره دے ټول(۱۳۹) اویقیناً نازل کړے دے اللّٰه تعالیٰ په تاسو باندے پدے کتاب کښ چه کله واورئے تاسو آیاتونه دَ اللّٰه تعالیٰ چه کفر کیږی په هغے باندے اوټوقے کیږی په هغے پورے پس مه کینئے تاسو دَ هغوی سره تردے چه مشغوله شی په نورو خبرو کښ یقیناً تاسوبه دغه وخت دَ دوی پشان یئ، یقیناً اللّٰه تعالیٰ جمع کؤونکے دے منافقانو اوکافرانو لره په جهنم کښ یوځائے (۱۴۰) او دا هغه کسان دی چه انتظار کوی ستاسو په باره کښ پس که وی ستاسو دپاره برے دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه وائی دوی آیانه ؤو مونږ ستاسو ملګری؟ اوکه وی کافرانولره څه برخه وائی دوی

[۱۳۷] دا دَ منافق اول صفت دے مراد دَ دینه ډیرکرته ایمان اوکفر بدلول دی دوه کرته خاص مراد نه دی ﴿ازْدَادُوْا كُفْرًا﴾ مراد دَ دے نه په کفر باندے مرکیدل دی په دے کښ ئے دَ منافقانو دوه قبائح ذکر کړی دی۔

[۱۳۸] داویره ده منافقانوته دَ عذاب په طریقه دَ استهزاء په هغوی پورے ځکه ئے بشّر اوفرمائیل دپاره دَ تذلیل اوتحقیردَ منافقانو۔

[۱۳۹] دے ایت کښ دَ منافقانودوه قباحتونه ذکرشوی دی ﴿الْعِزَّةَ لِلّٰهِ جَمِيْعًا﴾ یعنی اختیار دَ هرقسم عزت ورکولو دَ اللّٰه تعالیٰ سره دے نوپه دوستانه دَکافرانو سره عزت نه حاصلیږی هغوی خو دَ اللّٰه تعالیٰ دُشمنان دی۔

[۱۴۰] دا حواله ده په ایت دَ سورۃ انعام (٦٨) باندے مطلب دا دے چه په کوم مجلس کښ دَ اللّٰه تعالیٰ په ایاتونو کفر کیږی دَ اللّٰه تعالیٰ نه انکاروی، یا دَ رسول ﷺ نه یا قرآن یا آخرت نه دارنګ دَاصولودَ دین نه، یا دَشرك اوکفر اوبدعت بیان کیږی ﴿وَيُسْتَهْزَاُ﴾ مطلب دا دے چه دَ قرآن اوسنت نه خلاف عمل کیږی عمل دَ شرك اوبدعت، فسق وفجورنوداسے مجلس کښ مه شاملیږئ ﴿فِيْ حَدِيْثٍ غَيْرِهٖ﴾ مراد دا دے چه دَ دین اسلام په باره کښ شغل شروع کړی نوورسره مجلس کوئے۔

اَلَمْ نَسْتَحْوِذْ عَلَيْكُمْ وَنَمْنَعْكُمْ مِّنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ؕ فَاللّٰهُ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ وَلَنْ يَّجْعَلَ اللّٰهُ لِلْكٰفِرِيْنَ
عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ سَبِيْلًا ﴿۱۴۱﴾ اِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ يُخٰدِعُوْنَ اللّٰهَ وَ هُوَ خَادِعُهُمْ ۚ وَاِذَا قَامُوْۤا اِلَى الصَّلٰوةِ ۱۶
قَامُوْا كُسَالٰى ۙ يُرَآءُوْنَ النَّاسَ وَلَا يَذْكُرُوْنَ اللّٰهَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۱۴۲﴾ مُّذَبْذَبِيْنَ بَيْنَ ذٰلِكَ ۫ لَاۤ اِلٰى
هٰۤؤُلَآءِ وَلَاۤ اِلٰى هٰۤؤُلَآءِ ؕ وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَلَنْ تَجِدَ لَهٗ سَبِيْلًا ﴿۱۴۳﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا
تَتَّخِذُوا الْكٰفِرِيْنَ اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ ؕ اَتُرِيْدُوْنَ اَنْ تَجْعَلُوْا لِلّٰهِ عَلَيْكُمْ سُلْطٰنًا مُّبِيْنًا ﴿۱۴۴﴾

ایا نشو مونږ زور آور کیدے پتاسو باندے (که دَ مؤمنانوسره ملګری وئے) او آیا نه ږئ بچ کړی مونږ تاسولره دَ مؤمنانونه پس اللّٰه تعالیٰ به فیصله اوکړی په مینځ ستاسو کښ په روځ دَ قیامت اوهیڅ چرے نه ده ورکړے اللّٰه تعالیٰ کافرانو لره په مؤمنانوباندے لار (حجت اوغلبه) (۱۴۱) یقیناً منافقان دهوکه کوی دَ اللّٰه تعالیٰ سره اوهغه (سزا) دَ دهوکے ورکوی دوی لره۔ اوکله چه اودریږی مانځه ته اودریږی ناراست خودنه کوی خلقوته اونه یادوی دوی اللّٰه تعالیٰ لره مګر لږ (۱۴۲) دوپرك دی په مینځ(دَ ایمان اوکفرکښ) نه دی مسلمانانو طرف ته اونه دی کافرانو طرف ته، اوهغه څوك چه بے لارے کړی هغوی لره اللّٰه تعالیٰ پس هیڅ چرے اوبه نه مومے هغه لره لار (۱۴۳) اے ایمان والو: مه نیسئے کافرانو لره دوستان (تیریدونکی) دَ دوستانے دَ مؤمنانونه، آیا غواړئے تاسو چه جوړ کړئے اللّٰه تعالیٰ لره په ځان باندے دلیل ښکاره (۱۴۴)

[۱۴۱] دے ایت کښ هم درے بدئ دَمنافقانو ذکرشوی دی چه دَ چا زور وی نودَ هغوملګرتیا دَ دنیا په حرص باندے کوی۔

فائده: کافرانوته کله چه دُنیاکښ څه غلبه په مؤمنانوباندے ملاؤشی نودا صرف برخه دَ دُنیا ده چه اللّٰه تعالیٰ په دُنیاکښ هرچاله ورکوی دا فتح اونصرت الٰهیه نه دے دَ دے وجے نه دے ته ئے نصیب وئیلے دے فتح ئے نه ده وئیلے ځکه دَ ایت په آخری جمله کښ ئے اوفرمائیل چه اللّٰه تعالیٰ کافرانولره په ایمان والوباندے لاردَفتحے نه ورکوی ﴿اَلَمْ نَسْتَحْوِذْ﴾ په دے کښ دوی احسان زیادی په کافرانوباندے چه مونږ که مؤمنانوسره یوځائے شوی وے نوغالب شوی به وے په تاسوباندے ﴿الْمُؤْمِنِيْنَ﴾ مراد دَ دے نه کامل مؤمنان دی اوسبیلاً نه مراد غلبه ده اوهرکله چه کافران په مؤمنانوباندے غالب شی نودا دَ ایمان کمزورتیا ده یا سبیل نه مراد حجت او دلیل دے۔

[۱۴۲] دے کښ څلور صفات ذکرکوی ناراستی طبعی نه ده مراد بلکه هغه دَثواب کار نه ګنړی۔ او فرض ئے نه ګنړی نوځکه سستی کوی اوچه کوی نوریا دپاره ئے کوی اولږذکرهغه دے چه اخلاص پکښ نه وی اوپه طریقه دَ پیغمبرسره نه وی اګرچه په ژبه باندے اوپه تسپو باندے ډیروی۔

[۱۴۳] پدے کښ دَ منافقانو یوصفت ذکردے ﴿مُّذَبْذَبِيْنَ﴾ پریشان کیدل او ﴿لَاۤ اِلٰى هٰۤؤُلَآءِ﴾ دَ دے تفسیر دے۔

[۱۴۴] روستودَ قبائحودَ منافقانونه منع کوی مؤمنان دَ هغوی دَ دوستانے کولونه ﴿تَجْعَلُوْا لِلّٰهِ عَلَيْكُمْ﴾

اِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ فِي الدَّرْكِ الْاَسْفَلِ مِنَ النَّارِ ۚ وَلَنْ تَجِدَ لَهُمْ نَصِيْرًا ﴿۱۴۵﴾ اِلَّا الَّذِيْنَ تَابُوْا وَ
اَصْلَحُوْا وَاعْتَصَمُوْا بِاللّٰهِ وَاَخْلَصُوْا دِيْنَهُمْ لِلّٰهِ فَاُولٰٓئِكَ مَعَ الْمُؤْمِنِيْنَ ؕ وَسَوْفَ يُؤْتِ اللّٰهُ
الْمُؤْمِنِيْنَ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿۱۴۶﴾ مَا يَفْعَلُ اللّٰهُ بِعَذَابِكُمْ اِنْ شَكَرْتُمْ وَاٰمَنْتُمْ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ شَاكِرًا عَلِيْمًا ﴿۱۴۷﴾

یقیناً منافقان په طبقه لاندے دَ اورکښ به وی اوهیڅ چرے اوبه نه مومے دوی لره مددګار (۱٤٥) مګرهغه کسان چه توبه ئے کړه (دَ نفاق نه) اونیك عمل ئے کړو او مضبوط ئے اونیوو(دین) د اللّٰه تعالیٰ او اخلاص ئے اوکړودَ دین خپل اللّٰه تعالیٰ لره پس دغه خلق دَ مؤمنانو(دَ ډلے نه دی) اوزردے چه وربه کړی اللّٰه تعالیٰ مؤمنانو لره ثواب لوئے (۱٤٦) څه کوی اللّٰه تعالیٰ په عذاب ستاسو که توبه اوکړے تاسو اوایمان راوړئ اودے اللّٰه تعالیٰ شکر قبلوونکے او پوهه په هرڅه باندے (۱٤٧)

یعنی دوستانه کول دَ کافرانو سره دَ طرف دَ اللّٰه تعالیٰ نه دلیل ښکاره دے ستاسوپه کفرباندے اوپه استحقاق دَ عذاب باندے۔

[۱٤٥] دَ منافق کفرهم پټ دے نودَ هغه سزاهم په جهنم کښ پټ ځائے کښ ده دا یره اُخروی ده۔ ﴿وَلَنْ تَجِدَلَهُمْ نَصِيْراً﴾ په دے کښ اشاره ده چه دَ منافقانو دَپاره سفارش کول نیشته بلکه دَ مخلص مؤمنانو دَپاره به وی۔

[۱٤٦] دا دَ منافق دَ توبے شرطونه دی هرکله چه هغه په قرآن اوسنت باندے عمل نه کوی نو شرط ئے او لګوو ﴿وَاعْتَصَمُوْابِاللّٰهِ﴾ او هغه عمل دَ ریاکوو اخلاص پکښ نه وو، نو شرط ئے اولګوو چه ﴿اَخْلَصُوْا﴾ او مَعَ په معنیٰ دَ من سره دے۔

[۱٤٧] دے ایت کښ ترغیب دے اخلاص دَ ایمان ته اودفع دَ عذاب دپاره ئے دوه شرطونه بیان کړل یوتوبه بل ایمان ﴿شَكَرْتُمْ﴾ په معنیٰ دَ توبے سره دے او توبه دَ کفر اونفاق اوشرك نه مخکښ ده په ایمان باندے۔

لَا يُحِبُّ اللّٰهُ الْجَهْرَ بِالسُّوْٓءِ مِنَ الْقَوْلِ اِلَّا مَنْ ظُلِمَ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ سَمِيْعًا عَلِيْمًا ﴿١٤٨﴾ اِنْ تُبْدُوْا خَيْرًا اَوْ تُخْفُوْهُ اَوْ تَعْفُوْا عَنْ سُوْٓءٍ فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَفُوًّا قَدِيْرًا ﴿١٤٩﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ يَكْفُرُوْنَ بِاللّٰهِ وَ رُسُلِهٖ وَيُرِيْدُوْنَ اَنْ يُّفَرِّقُوْا بَيْنَ اللّٰهِ وَرُسُلِهٖ وَيَقُوْلُوْنَ نُؤْمِنُ بِبَعْضٍ وَّنَكْفُرُ بِبَعْضٍ ۙ وَّيُرِيْدُوْنَ اَنْ يَّتَّخِذُوْا بَيْنَ ذٰلِكَ سَبِيْلًا ﴿١٥٠﴾ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْكٰفِرُوْنَ حَقًّا ۚ وَاَعْتَدْنَا لِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابًا مُّهِيْنًا ﴿١٥١﴾

نه خوښوی الله تعالی په زوره وئیل دَ بدے وینا مګر هغه څوك چه ظلم کړے شوے وی په هغه باندے اودے الله تعالی اوریدونکے پوهه (۱٤۸) که ښکاره کوئے نیکی یاپټه کوئے یامعافی کوئے دَ بدئے نه پس یقیناً الله تعالی دے معافی کؤونکے قدرت لرونکے (۱٤۹) یقیناً هغه کسان چه کفر کوی په الله تعالی اوپه رسولانو دَ هغه او اراده لری چه جداوالے اوکړی په مینځ (دَ حکم) دَ الله تعالی او(دَ حکم) دَ رسولانوکښ اودوی وائی ایمان لرو په بعضو باندے او کفر کؤو مونږ په بعضو۔ اوغواړی چه جوړه کړی په مینځ دَ دے کښ بله لاره(۱۵۰) دغه کسان دوی کافران دی یقیناً، اوتیارکړے دے مونږ کافرانو لره عذاب شرموونکے (۱۵۱)

[۱٤۸] یعنی منافق کس کله کلمه دَکفر وائی اودَ هغے دپاره څه بهانے اوعذرونه پیش کوی نو الله تعالی اوفرمائیل چه بغیرد حالت دَ مظلومیت(چه زور اوکړے شی په وژلوسره) نو هسے کلمه دَکفروئیل جائز نه دی او ایت کریمه کښ داخل ده چه چاته دُعاءِ شر(خیرے) کول نه دی جائز،هاں که مظلوم کس ظالم ته خیرے کوی نو زرقبلیږی۔

[۱٤۹] مطلب دا دے که کلمه دَ خیر(یعنی دَ دین خبره) ښکاره وائے یا زړه کښ اراده ساتے یا دَ بدے خبرے اودَ بدکارونو محوکول کوے نوښه کاردے یا چاتاسره بدی کړی وی او دَ هغے نه معافی کوے نو ښه کاردے ځکه چه الله تعالی سرهٔ دَ قدرت نه معافی کوی نو انسان خوعاجز دے نو دَ دهٔ دپاره معافی کول ضرور ښه کاردے۔

[۱۵۰] دَ دے ایت نه دویم باب دے تر(۱٦۹) پورے پدے کښ دَ اهل کتابوبد صفات ذکرکوی، اوپه هغوی چه بعض انعامات دَ الله تعالی بندشوی وؤ دَ هغے اسباب ذکرکوی اودَ هغوی دَ یو سوال دوه جوابونه کوی اول جواب الزامی په بیان دَ قبائحو دَ هغوی سره ،دویم جواب تحقیقی﴿يُفَرِّقُوْا بَيْنَ اللّٰهِ وَرُسُلِهٖ﴾ فرق په مینځ دَ الله تعالی او دَ رسولانوکښ دا دے چه وائی دَ الله تعالی حکم منم او دَ رسول نه منم لکه منکرین حدیث اوپدے ایت کښ څلور صفات قبیحه ذکرشوی دی ﴿اَنْ يَّتَّخِذُوْا بَيْنَ ذٰلِكَ سَبِيْلًا﴾ ماجدی وئیلی دی چه په دے کښ دَ اکبر بادشاه دین داخل دے چه هغه دَ کفر اواسلام نه مخلوط دین ایجاد کړے وؤ اوبل شهزاده داراهم شکوه کړے وه اوس هم بعض جاهلان داسے فکرونه لری۔

[۱۵۱] پدے ایت کښ یوصفت ذکردے اوویره اُخروی ده ﴿حَقًّا﴾ دَ تاکید دَپاره دے یعنی پوره اویقینی کافران دی۔

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ وَلَمْ يُفَرِّقُوْا بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْهُمْ اُولٰٓئِكَ سَوْفَ يُؤْتِيْهِمْ اُجُوْرَهُمْ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿١٥٢﴾ يَسْـَٔلُكَ اَهْلُ الْكِتٰبِ اَنْ تُنَزِّلَ عَلَيْهِمْ كِتٰبًا مِّنَ السَّمَآءِ فَقَدْ سَاَلُوْا مُوْسٰٓى اَكْبَرَ مِنْ ذٰلِكَ فَقَالُوْٓا اَرِنَا اللّٰهَ جَهْرَةً فَاَخَذَتْهُمُ الصّٰعِقَةُ بِظُلْمِهِمْ ۚ ثُمَّ اتَّخَذُوا الْعِجْلَ مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُمُ الْبَيِّنٰتُ فَعَفَوْنَا عَنْ ذٰلِكَ ۚ وَاٰتَيْنَا مُوْسٰى سُلْطٰنًا مُّبِيْنًا ﴿١٥٣﴾ وَرَفَعْنَا فَوْقَهُمُ الطُّوْرَ بِمِيْثَاقِهِمْ وَقُلْنَا لَهُمُ ادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا وَّقُلْنَا لَهُمْ لَا تَعْدُوْا فِي السَّبْتِ وَاَخَذْنَا مِنْهُمْ مِّيْثَاقًا غَلِيْظًا ﴿١٥٤﴾ فَبِمَا نَقْضِهِمْ مِّيْثَاقَهُمْ وَكُفْرِهِمْ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَقَتْلِهِمُ الْاَنْۢبِيَآءَ بِغَيْرِ حَقٍّ وَّقَوْلِهِمْ قُلُوْبُنَا

اوهغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے په اللّٰه تعالیٰ اوپه رسولانودَ هغه اوجدائی نه ده کړے دوی په مینځ دَ هیڅاکښ دَ دوینه دغه کسان زردے وربه کړی اللّٰه تعالیٰ دویته ثوابونه دَ دوی، اودے اللّٰه تعالیٰ بخونکے رحم کۈونکے(۱۵۲) سوال کوی دَ تانه کتابیان چه په یوځائے نازل کړے په دوی باندے کتاب دَ آسمان نه پس یقیناً سوال کړے ۇو دوی دَ موسیٰ(علیه السلام) نه ډیرلوئے دَ دینه پس اُویل دوی اوښایه مونږ ته اللّٰه تعالیٰ ښکاره پس اونیۇو دوی لره تندر په سبب دَ ظلم دَ دوی بیا اونیۇو دوی سخے په خدائے سره روستو دَ دینه چه راغلل دویته ښکاره دلیلونه پس معافے اوکړو مونږ دویته او ورکړے ۇومونږموسیٰ(علیه السلام) ته دلیل ښکاره (۱۵۳) او اوچت کړو مونږ دَ پاسه دَ دوی طور غردپاره دَ وعدے اغستلو دَ دوی نه او اُویل مونږ دویته داخل شئ دروازے ته سجده کۈونکی او اُویل مونږ دویته چه دَ حدنه مه تیریږئے په ورځ دَ خالی کښ اواغستے ده مونږدَ دوینه وعده پخه (۱۵٤) پس په سبب دَ ماتولو دَ دوی لوظونه خپل اوکفردَ دوی په آیاتونودَ اللّٰه تعالیٰ او وژل دَ دوی پیغمبران بغیردَ جرم شرعی نه او وینا دَ دوی چه زړونه ځمونږ

[۱۵۲] پدے ایت کښ زیرے دے دپاره دَایمان والوکه کتابی وی اوکه غیرکتابی وی﴿سَوْفَ﴾ دا دَ تاکید دپاره دے روستووالے پکښ مرادنه دے۔

[۱۵۳] دا دَ دوی عنادی سوال دے نوځکه اول جواب الزامی دَ دوی کښ بدئے دَدوی تفصیلاً بیانوی چه دا بدئے دلیل دے پدے باندے چه تاسو همیشه دَ حق سره عنادکړے دے۔ په دے کښ درے بدئے ذکرشوی دی ﴿اَنْ تُنَزِّلَ عَلَيْهِمْ﴾ مراد دا دے چه دَ موسیٰ(علیه السلام) پشان په یوځل کتاب راوړل پکاردی اودَ دے بدو تفصیل په سوره بقره کښ تیرشویدے۔

[۱۵٤] پدے ایت کښ دَ دوی ځلور حالات ذکردی اوتمهید دے ورپسے ایت دپاره چه دا لوظونه دوی مات کړی دی ﴿سُجَّداً﴾ مراد دَ دے نه سرکوځول اوعاجزی کول دی ﴿مِيْثَاقاً غَلِيْظاً﴾ دَ دے مطلب دَ دے مخکے احکاموپوځوالے دے یانور لوظونه چه په سورۃ بقره کښ تیرشویدی۔

غُلْفٌ ؕ بَلْ طَبَعَ اللّٰهُ عَلَيْهَا بِكُفْرِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُوْنَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۱۵۵﴾ وَّ بِكُفْرِهِمْ وَ قَوْلِهِمْ عَلٰى مَرْيَمَ
بُهْتَانًا عَظِيْمًا ﴿۱۵۶﴾ وَّ قَوْلِهِمْ اِنَّا قَتَلْنَا الْمَسِيْحَ عِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ رَسُوْلَ اللّٰهِ ۚ وَمَا قَتَلُوْهُ وَمَا
صَلَبُوْهُ وَلٰكِنْ شُبِّهَ لَهُمْ ؕ وَاِنَّ الَّذِيْنَ اخْتَلَفُوْا فِيْهِ لَفِيْ شَكٍّ مِّنْهُ ؕ مَا لَهُمْ بِهٖ مِنْ عِلْمٍ اِلَّا
اتِّبَاعَ الظَّنِّ ۚ وَمَا قَتَلُوْهُ يَقِيْنًا ﴿۱۵۷﴾ بَلْ رَّفَعَهُ اللّٰهُ اِلَيْهِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَزِيْزًا حَكِيْمًا ﴿۱۵۸﴾ وَاِنْ مِّنْ اَهْلِ

دَ علم لوخی دی بلکه مهر وهلے دے اللّٰه تعالیٰ په هغے په سبب دَکفردَ دوی پس ایمان نه راوړی مګر لږ (۱۵۵) او په سبب دَکفردَ دوی اوجوړ ول دَ دوی په مریم باندے بدنامه لویه (۱۵۶) او وینا دَ دوی یقیناً مونږ وژلے دے مسیح عیسیٰ(علیه السلام) ځوئے دَ مریم رسول دَ اللّٰه تعالیٰ۔ اونه دے وژلے دوی هغه اونه ئے په سولئے کړے دے اولیکن یوشان کړے شوے هغه دَ عیسیٰ(علیه السلام) سره دویته، اویقیناً هغه کسان چه اختلاف ئے کړے دے په هغه کښ خامخاپه شك کښ دی دَ دهٔ نه نیشته دوی لره په هغے څه علم مګرتابعداری کوی دَګمان اونه دے قتل کړے دوی هغه په رشتیا (۱۵۷) بلکه پورته خیژولے دے اللّٰه تعالیٰ ځان ته، اودے اللّٰه تعالیٰ زور آورحکمتونو والا (۱۵۸) اونه دی

[۱۵۵] پدے ایت کښ هم دَ کتابیانو پنځه بدئے ذکرکوی، او دارنګ دَ دے ځائے نه بیان دَاسبابو شروع کوی چه په هغے سره پدوی باندے طیبات حرام شول ﴿فَبِمَا﴾ با دپاړه دَ سببیت ده تعلق لری دَحرمنا سره چه روستو ذکردے یاپه لعنا پټ پورے او دَ غلف تفسیر په سورهٔ بقره کښ تیرشویدے۔

[۱۵۶] مریم ته ئے نسبت دَبدکارئے کړے وؤ او حال داچه دوی ته په دلیلونو سره دَ هغے عفت سکاره شو اوپدے ایت کښ دوه بدئے ذکردی۔

[۱۵۷] بعض یهودودَ عیسیٰ علیه السلام دَ قتل دعویٰ کوله اوبعضے نصاریٰ وئیلی دی چه پهانسی کړے ئے وو بیائے کوزکړویوساعت پس مړشو، دَدے دپاړه چه ځمونږ دَګناهونوکفاره شی، دواړو ډلو باندے پدے ایت کښ ردکړے شوے دے﴿وَلٰكِنْ شُبِّهَ لَهُمْ﴾ یوه معنیٰ دا ده لکن دوی قتل کړے دے هغه ځوك چه جوړکړے شوپه شکل دَ عیسیٰ علیه السلام یوروایت دا دے چه یوحواری دَعیسیٰ علیه السلام دَ هغه په شکل کړے شو(دَ هغه په رضا) او قتل کړے شو۔ دویم روایت دا دے چه دَ قاتلانونه یوکس دَ هغه په شکل کړے شوبیا قتل کړے شواوعیسیٰ علیه السلام پورته اوخیژولے شو۔ دویمه معنیٰ دا ده چه عیسیٰ علیه السلام پورته کړیشونو دوی یوغریب سړے دَ هغه دَ ملګرونه قتل کړو اوخلقوکښ ئے مشهوره کړه چه مونږعیسیٰ علیه السلام وژلے دے۔ معنیٰ داشوه لیکن ګډه وډه شوه په دوی باندے واقعه دَ قتل عیسیٰ علیه السلام ﴿لَفِيْ شَكٍّ مِّنْهُ﴾ نه هغه خلق مراد دی چه دَ هغه قتل پسے تلی وؤ ﴿مَا لَهُمْ بِهٖ مِنْ عِلْمٍ﴾ دا نور خلق مراد دی یعنی چاته چه دوی خبرَ قتل ورکړو نو هغوی هم صرف ګمان پسے روان دی ﴿يَقِيْنًا﴾ دا دَ نفی دَ قتل دَپاړه دے دَپاړه دَ تاکید۔

[۱۵۸] اوچت کړے دے بدن اوروح دواړه یوځائے۔ رفع دَروح صرف، یا اوچت والے دَ درجے مرادنه دے ځکه هغه معنیٰ مجازی ده اوحقیقی معنیٰ بغیرَ ضرورت اودلیل نه پریخودل جائزنه دی ﴿عَزِيْزًا﴾ زورآوردے هیڅ شے دَ طبقے دَ اور یا خلا (چه پورته دی) هغه نشی منع کولے﴿حَكِيْمًا﴾ صرف عیسیٰ علیه السلام ئے آسمان ته پورته کړونه نور انبیاء دا حکمت دَ اللّٰه تعالیٰ دے۔

الْكِتٰبِ اِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِهٖ قَبْلَ مَوْتِهٖ ۚ وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ يَكُوْنُ عَلَيْهِمْ شَهِيْدًا ﴿١٥٩﴾ فَبِظُلْمٍ مِّنَ الَّذِيْنَ هَادُوْا
حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ طَيِّبٰتٍ اُحِلَّتْ لَهُمْ وَبِصَدِّهِمْ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ كَثِيْرًا ﴿١٦٠﴾ وَّاَخْذِهِمُ الرِّبٰوا وَقَدْ نُهُوْا
عَنْهُ وَاَكْلِهِمْ اَمْوَالَ النَّاسِ بِالْبَاطِلِ ۭ وَاَعْتَدْنَا لِلْكٰفِرِيْنَ مِنْهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿١٦١﴾ لٰكِنِ الرّٰسِخُوْنَ فِي
الْعِلْمِ مِنْهُمْ وَالْمُؤْمِنُوْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ وَمَآ اُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ وَالْمُقِيْمِيْنَ الصَّلٰوةَ وَ ع ١٦
الْمُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَالْمُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ۭ اُولٰۗىِٕكَ سَنُؤْتِيْهِمْ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿١٦٢﴾ اِنَّآ اَوْحَيْنَآ

کتاب والا مګر خامخا ایمان به راوړی په هغه مخکے د مرګ د هغه نه اوپه روځ د قیامت شی به په دوی باندے ګواهی ورکؤونکے (۱۵۹) پس په سبب د ظلم کولو د یهودیانو حرام کړی دی مونږپه دوی باندے مزیدارځیزونه چه حلال شوی ؤودوی لره اوپه سبب د منع کولود دوی د لارے د اللّٰه تعالیٰ نه ډیرخلقولره (۱۶۰) اوپه سبب د اغستلو د دوی سود اویقیناً دوی منع کړے شوی دی د هغے نه اوخورل د دوی مالونه د خلقوپه ناروا، اوتیارکړے دے مونږ کافرانولره د دوی نه عذاب درد ناك (۱۶۱) لیکن پاخه په علم کښ د دوینه اومؤمنان چه ایمان لری په هغه کتاب چه نازل کړے شوے دے تاته اوهغه چه نازل کړے شوے دے مخکښے ستانه او (شاباشے دے) په پابندی کؤونکود مانځه او ورکؤونکی د زکوٰة اوایمان لرونکی په اللّٰه تعالیٰ اوپه ورځ روستنئے دغه کسان خامخا ورکؤوبه دویته ثواب لوئے (۱۶۲) یقیناً وحی کړے وه مونږ

[۱۵۹] غوره تفسیر پدے کښ داسے دے چه کله عیسیٰ علیه السلام د اسمان نه راکوزشی نوهغه وخت چه کوم کتابیان وی نو هغوی به ایمان راوړی په عیسیٰ علیه السلام باندے او داسے په حدیث ابوهریره رضی الله عنه کښ شته دے۔ اوشهادت د عیسیٰ علیه السلام په دوی باندے د سورة مائده په آخر کښ ذکر شوے دے۔

[۱۶۰] دا بیان د نوروا سبابو دے د ډیاره د تحریم د طیبات اومراد د طیبات نه بندول د مَن اوسلویٰ اوتحریم د چربئے اوهغه چه سورة انعام (۱٤٦) کښ دی اوخوشحالی او اطمینان په ژوند کښ۔

فائده: د دے اسبابوپه وجه پدے اُمت باندے هم کله باران بندشی ګرانی راشی ذلیل اومغلوب شی۔ اللّٰه تعالیٰ د مونږ د دے اعمالونه بچ کړی۔ امین۔

[۱۶۱] په دے کښ دوه اسباب د تحریم ذکردی ﴿بِالْبَاطِلِ﴾ هغه ټولے طریقے چه په هغے سره د بل چا مال حاصلیږی بغیر د شرعی طریقے نه غلا، غصب، حیله ګری وغیره پکښ داخل دی ﴿مِنْهُمْ﴾ په دے کښ اشاره ده چه داخصلتونه اوبقا په کفر باندے په ټولو یهودیانو کښ نه وؤ۔

[۱۶۲] هر کله چه مخکے ایاتونو کښ د ظالمانو کافرانو ذکرئے اوکړونواوس د هغوی مقابل اوهغوی ته بشارت ذکرکوی ﴿الرّٰسِخُوْنَ فِي الْعِلْمِ﴾ هغه علماء دی چه په کتاب د اللّٰه تعالیٰ باندے پوره عمل کوی ﴿وَالْمُقِيْمِيْنَ﴾ په حال د نصب کښ اشاره ده چه دا مخصوص دے په مدح سره او اهمیت د مونځ ته اشاره ده ﴿سَنُؤْتِيْهِمْ﴾ سین دپاره د تاکید دے۔

اِلَيْكَ كَمَآ اَوْحَيْنَآ اِلٰى نُوْحٍ وَّالنَّبِيّٖنَ مِنْۢ بَعْدِهٖ ۚ وَاَوْحَيْنَآ اِلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ وَاِسْمٰعِيْلَ وَاِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ
وَالْاَسْبَاطِ وَعِيْسٰى وَاَيُّوْبَ وَيُوْنُسَ وَهٰرُوْنَ وَسُلَيْمٰنَ ۚ وَاٰتَيْنَا دَاوٗدَ زَبُوْرًا ﴿١٦٣﴾ وَرُسُلًا قَدْ
قَصَصْنٰهُمْ عَلَيْكَ مِنْ قَبْلُ وَرُسُلًا لَّمْ نَقْصُصْهُمْ عَلَيْكَ ۭ وَكَلَّمَ اللّٰهُ مُوْسٰى تَكْلِيْمًا ﴿١٦٤﴾ رُسُلًا مُّبَشِّرِيْنَ
وَمُنْذِرِيْنَ لِئَلَّا يَكُوْنَ لِلنَّاسِ عَلَى اللّٰهِ حُجَّةٌۢ بَعْدَ الرُّسُلِ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ عَزِيْزًا حَكِيْمًا ﴿١٦٥﴾ لٰكِنِ

تاته په شان دَ هغے چه وحی کړے وه مونږ نوح(علیه السلام) ته اونورو پیغمبرانوته روستودَ هغه نه، او وحی کړے وه مونږ ابراهیم(علیه السلام) ته اواسمٰعیل(علیه السلام) ته اواسحاق(علیه السلام) اویعقوب(علیه السلام) ته او اولاد دَ هغوی اوعیسٰی(علیه السلام) ته او ایوب(علیه السلام) ته اویونس(علیه السلام) اوهارون(علیه السلام) اوسلیمان(علیه السلام) ته او ورکړے دے مونږ داؤد(علیه السلام) ته زبور (١٦٣) او وحی کړے ده مونږ ډیرو رسولانوته چه بیان کړے دے مونږ په تاباندے مخکے دَ دینه اوډیر رسولانوته چه نه دی بیان کړی مونږ په تاباندے او خبرے کړی دی الله تعالٰی موسٰی(علیه السلام) سره خبرے کول(١٦٤) (لیکلی دی مونږ) رسولان زیرے ورکؤونکی او ویره ورکوؤنکی دَ دے دپاره چه نه وی خلقولره په الله تعالٰی باندے هیڅ بهانه پس دَ لیکلو دَ رسولانونه۔ او دے الله تعالٰی زور اورحکمتونو والا (١٦٥) لیکن

[١٦٣] دا جواب دَ هغه تیرشوی سوال دے۔ جواب تحقیقی دے، مطلب دا دے چه وحی دَ دے نبی ﷺ دَ تیرشوو انبیاؤپشان ده مقصد دَ ټولوتوحید دے اودفع دَ عذر دَ خلقوده اوطریقه داچه هغوی باندے لګه لګه وحی راتله سیوا دَ تورات نه نوپدے پیغمبرهم لګه لګه وحی راځی اوهرکله چه بیان دَتوحید او رد دَ شرك دَنوح(علیه السلام) نه شروع شوے وؤنوپدے ایت کښ ئے دَ هغه نه شروع اوکړه اولس (١٠) انبیاء علیهم السلام ئے ذکرکړل اونوراجمالاً ﴿زَبُوراً﴾ دائے جدا ذکرکړو ځکه چه په هغے کښ احکام نه وؤ صرف حمدونه دَ الله تعالٰی اومواعظ وؤ۔

[١٦٤] دَ ډیرورسولانو تفصیلی بیان اونومونه الله تعالٰی خپل آخری نبی ﷺ ته نه دی بیان کړی (معلومه شوه چه هغه ته علم کلی ندے ورکړے شوے) هاں په شمارے دَپیغمبرانوباندے یوروایت کمزورے شته چه یولاکھ اوڅلیریشت زره دی ﴿تَكْلِيْماً﴾ په دے مصدر کښ اشاره ده چه دا دَ کلام الٰهی یوخاص قسم وؤ صرف وحی نه وه اوداکلام حقیقی دے صفت دَ الله تعالٰی دے اوپه دے کښ اشاره ده چه نوره وحی دَ موسیٰ(علیه السلام) (بغیر دَ توراة نه) هم لګه لګه نازلیدله۔

[١٦٥] په دے کښ مقصد اوحکمت دَ رالیږلو دَ رسولانو ذکردے یعنی دفع دَ عذردَ خلقولکه سورة طٰهٰ (١٢٤) او قصص (٤٧) کښ دی ﴿حُجَّةٌ﴾ په معنیٰ دَ معذرت اوبهانه سره دے ځکه که الله تعالٰی رسولان نه وے رالیګلے نوبیاهم په هغه باندے هیڅا حجت نشو قائم کولے هاں معذرت دَ الله تعالٰی په نیز باندے قبول وی۔

اللّٰهُ يَشْهَدُ بِمَآ اَنْزَلَ اِلَيْكَ اَنْزَلَهٗ بِعِلْمِهٖ ۚ وَ الْمَلٰٓئِكَةُ يَشْهَدُوْنَ ؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا ﴿۱۶۶﴾ اِنَّ
الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ قَدْ ضَلُّوْا ضَلٰلًا بَعِيْدًا ﴿۱۶۷﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَ ظَلَمُوْا لَمْ
يَكُنِ اللّٰهُ لِيَغْفِرَ لَهُمْ وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ طَرِيْقًا ﴿۱۶۸﴾ اِلَّا طَرِيْقَ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ؕ وَ كَانَ
ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرًا ﴿۱۶۹﴾ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَآءَكُمُ الرَّسُوْلُ بِالْحَقِّ مِنْ رَّبِّكُمْ فَاٰمِنُوْا خَيْرًا لَّكُمْ ؕ
وَاِنْ تَكْفُرُوْا فَاِنَّ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ﴿۱۷۰﴾ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ لَا تَغْلُوْا
فِيْ دِيْنِكُمْ وَلَا تَقُوْلُوْا عَلَى اللّٰهِ اِلَّا الْحَقَّ ؕ اِنَّمَا الْمَسِيْحُ عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ وَ كَلِمَتُهٗ ۚ

اللّٰه تعالیٰ گواهی کوی په هغه کتاب چه نازل کړے دے تاته نازل کړے دے په علم خپل سره اوملائك گواهی کوی او پوره دے اللّٰه تعالیٰ گواهی کوونکے (۱۶۶) یقیناً هغه کسان چه کفرئے کړے دے اومنع کوی خلق دَ لارے دَ اللّٰه تعالیٰ نه یقیناً گمراه شول دوی په گمراهئ لرے سره (۱۶۷) یقیناً هغه کسان چه کفر ئے کړے دے اوظلم ئے کړے دے نه دے اللّٰه تعالیٰ چه بخنه اوکړی دویته اونه به دوی ته خائی لار(۱۶۸) مگرلارۀ جهنم همیشه به وی په هغے کښ همیشه او دے داکار په اللّٰه تعالیٰ باندے آسان (۱۶۹) اے خلقو: یقیناً راغلے دے تاسوته رسول دپاره دَ حق بیانولودَ طرف دَ رب ستاسونه پس ایمان راوړئ وی به غوره تاسولره اوکه کفر اوکړو تاسو پس یقیناً اللّٰه تعالیٰ لره اختیار دے دَ هغه څه چه په اسمانونو کښ اوزمکه کښ دی اودے اللّٰه تعالیٰ پوهه حکمتونو والا(۱۷۰) اے کتاب والو: زیاتے مه کوے په دین خپل کښ اومه وائے په اللّٰه تعالیٰ باندے سیوا دَ حق نه۔ یقیناً مسیح عیسیٰ(علیه السلام) څوئے دَ مریم رسول دَ اللّٰه تعالیٰ دے اوکلمه (دَ کن) دَ هغه ده

[۱۶۶] دا دَ ایت (۱۵۳) سره تعلق لری یعنی داخلق که دَ قرآن په باره کښ شك کوی لیکن اللّٰه تعالیٰ اوملائك دَ دے په صدق باندے گواه دی ﴿اَنْزَلَهٗ بِعِلْمِهٖ﴾ با دَ ملابست ده حال دے دَمفعول دَانزله نه یعنی قرآن مشتمل دے په علم دَاللّٰه تعالیٰ باندے یا حال دے دَ فاعل دَ انزل نه۔

[۱۶۷] زورنه ده منکرینو ته اورد په سوال کوؤنکو(چه یهودیان وؤ) ﴿صَدُّوْا﴾ دلته متعدی دے۔

[۱۶۸] ویره دَ عذاب اُخروی ده منکرینوته ﴿ظَلَمُوْا﴾ ظلم دا دے چه نور خلق کفرته رابلی ﴿وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ طَرِيْقًا﴾ مراد دَ دے نه توفیق دَ صحیح لارے دے۔

[۱۶۹] دا استثناء ده دَطریقاً عام نه یا په تقدیرِ دَ فعل سره (یوصلهم طریق جهنم) رسَوی دوی لره لاردَ جهنم ته ﴿يَسِيْرًا﴾ اللّٰه تعالیٰ ته هرفعل آسان دے یعنی اسبابوته محتاج نه دے اونه دا دَ چا دَ طعن نه ویره کوی۔

[۱۷۰] دَ دے ایت نه ترآخره پورے دریم باب دے صدق دَ رسول ﷺ اورد په شرك اعتقادی او صدق دَ قرآن او اخر کښ بیان دَ یوحکم میراث۔ لکه چه دَسورة په اول کښ داسے عام خطاب وؤ نو په آخر کښ هم عام خطابات راوړی دَپاره دَ دعوت دَ ایمان په آخری رسول اوقرآن باندے ﴿وَاِنْ تَكْفُرُوْا﴾ دَ دے جزا پته ده۔ (ضرر به په تاسوباندے وی)۔

أَلْقٰىهَآ إِلٰى مَرْيَمَ وَرُوحٌ مِّنْهُ ز فَـَٔامِنُوا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ ج وَلَا تَقُولُوا ثَلٰثَةٌ ط اِنْتَهُوا خَيْرًا لَّكُمْ ط
إِنَّمَا اللّٰهُ إِلٰهٌ وَّاحِدٌ ط سُبْحٰنَهٗٓ أَنْ يَّكُونَ لَهٗ وَلَدٌ ق لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ط وَكَفٰى بِاللّٰهِ
وَكِيلًا ﴿١٧١﴾ لَنْ يَّسْتَنْكِفَ الْمَسِيحُ أَنْ يَّكُونَ عَبْدًا لِّلّٰهِ وَلَا الْمَلٰٓئِكَةُ الْمُقَرَّبُونَ ط وَمَنْ يَّسْتَنْكِفْ عَنْ
عِبَادَتِهٖ وَيَسْتَكْبِرْ فَسَيَحْشُرُهُمْ إِلَيْهِ جَمِيعًا ﴿١٧٢﴾ فَأَمَّا الَّذِينَ اٰمَنُوا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فَيُوَفِّيهِمْ
أُجُورَهُمْ وَيَزِيدُهُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ ج وَأَمَّا الَّذِينَ اسْتَنْكَفُوا وَاسْتَكْبَرُوا فَيُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا لا وَّلَا

لیکلے وہ مریم ته او روح والادے دَ طرف دَ هغه نه پس ایمان راوړئ په الله تعالیٰ اوپه رسولانودَ هغه اومه وائے چه (خدایان) درے دی منع شئے (وی به) غوره ستاسودپاره، یقیناً الله تعالیٰ حق دار دَ بندګئے یودے، پاکی ده هغه لره چه وی هغه لره اولاد، دَ هغه په اختیارکښ دی هغه څه چه په آسمانونو کښ دی اوهغه څه چه په زمکه کښ دی اوپوره دے الله تعالیٰ ذمه وار(۱۷۱) هیڅ چرے بدنه ګنړی مسیح(علیه السلام) چه شی بنده دَ الله تعالیٰ اونه ملائك نزدے (الله تعالیٰ ته) اوچاچه بده اوګنړله بندګی دَ الله تعالیٰ اوځان ئے لوئے اوګنړو پس زر دے جمع به ئے کړی الله تعالیٰ ځان ته ټول(۱۷۲) پس هغه چاچه ایمان راوړے دے اوعمل ئے کړے دے په طریقه دَ نبی(ﷺ)پس پوره به ورکړی دویته ثوابونه دَ دوی اوزیاتی به ورکړی دویته دَ فضل خپل نه اوهغه چاچه بده اوګنړله بندګی دَ الله تعالیٰ اوځان ئے لوئے اوګنړوپس عذاب به ورکړی دویته عذاب درد ناك۔ اونه به

[۱۷۱] پدے ایت کښ رد دے په شرك اعتقادی دَ نصاریٰ ﴿لَا تَغْلُوا فِي دِينِكُمْ﴾ دَ حد شرعی اودَ طریقے دَ شرع نه زیاتے کولوته غُلو وائی، او دا حرام دے مثلاً دَ عیسیٰ(علیه السلام) په باره کښ عقیده لرل چه دے الله دے یا ابن الله دے داغلو شرك دے یا یوعمل دَ پیغمبر(ﷺ) دَ طریقے نه خلاف په بله طریقه کول اوهغے ته ثواب وئیل دا بدعت دے۔ دارنګ دَ حد شرعی نه کمے کول(چه هغے ته تفریط وئیلے شی) داهم په غلوکښ داخل ده لکه چه یهودیانودَ عیسیٰ(علیه السلام) په باره کښ تفریط کوؤدَ هغه دَ نبوت نه ئے انکارکوؤاوهغه ته ولد الزنا وائی نوغلودلته په عامه معنیٰ سره ده۔ اودَ دے وجے نه روستو داسے صفات دَ عیسیٰ(علیه السلام) ئے ذکرکړی دی چه دَ افراط اوتفریط په مینځ کښ دی مراد دَ دے نه کلمه دَ کُن ده چه په دغه کلمے سره بغیر دَ نطفے نه پیدا شویدے ﴿رُوحٌ مِّنْهُ﴾ من دپاره دَجهة دے اودا نسبت دَ تشریف دپاره دے ﴿وَلَا تَقُولُوا ثَلٰثَةٌ﴾ دَ نصاریٰ په باره دَ تثلیث کښ مختلف اقوال دی چه په تفسیر دَ سورة مائده کښ ذکرکیږی۔

[۱۷۲] دا رد دے په نصاریٰ باندے، هغوی نبی(ﷺ) ته وئیل چه ته دَعیسیٰ(علیه السلام) بے ادبی کوے ځکه چه ته هغه بنده وائے ﴿يَسْتَنْكِفَ﴾ نفرت کول اوبدګنړل یعنی طبعاً دَ بندګئے دَالله تعالیٰ نه نفرت کول۔ ﴿يَسْتَكْبِرْ﴾ بندګی دَ الله تعالیٰ حق ګنړی لیکن ځان دَ هغے نه لوے ګنړی او دا داوړه کفردے ﴿الْمَلٰٓئِكَةُ الْمُقَرَّبُونَ﴾ دا رد دے په مشرکین بالملائکة باندے۔

يَجِدُوْنَ لَهُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ﴿١٧٣﴾ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَآءَكُمْ بُرْهَانٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَ
اَنْزَلْنَآ اِلَيْكُمْ نُوْرًا مُّبِيْنًا ﴿١٧٤﴾ فَاَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَاعْتَصَمُوْا بِهٖ فَسَيُدْخِلُهُمْ فِيْ رَحْمَةٍ مِّنْهُ وَفَضْلٍ ۙ
وَّيَهْدِيْهِمْ اِلَيْهِ صِرَاطًا مُّسْتَقِيْمًا ﴿١٧٥﴾ يَسْتَفْتُوْنَكَ ؕ قُلِ اللّٰهُ يُفْتِيْكُمْ فِي الْكَلٰلَةِ ؕ اِنِ امْرُؤٌا هَلَكَ لَيْسَ
لَهٗ وَلَدٌ وَّلَهٗٓ اُخْتٌ فَلَهَا نِصْفُ مَا تَرَكَ ۚ وَهُوَ يَرِثُهَآ اِنْ لَّمْ يَكُنْ لَّهَا وَلَدٌ ؕ فَاِنْ كَانَتَا اثْنَتَيْنِ
فَلَهُمَا الثُّلُثٰنِ مِمَّا تَرَكَ ؕ وَاِنْ كَانُوْٓا اِخْوَةً رِّجَالًا وَّنِسَآءً فَلِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْاُنْثَيَيْنِ ؕ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ
اَنْ تَضِلُّوْا ؕ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿١٧٦﴾ ع

مومی دوی ځان لره سیوا دَ الله تعالیٰ نه دوست اونه امدادی (۱۷۳) اے خلقو: یقیناً راغلے دے تاسوته یقینی دلیل ستاسودَ رب دَ طرف نه اونازل کړے دے مونږ تاسوته رنړابښکاره (۱۷٤) پس هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے په الله تعالیٰ او مضبوط ئے اونیوو دا قرآن پس داخل به کړی دوی لره په خاص رحمت خپل کښ اوزیات ثواب کښ اوروان به کړی الله تعالیٰ دوی لره ځان طرف ته په نیغه لاره (۱۷۵) تپوس کوی دوی ستانه، اُوایه: الله تعالیٰ حکم درکوی تاسوته په باره دَ مونږوتی میرات کښ که یوسړے مړشونه وُودهٔ لره اولاد اودهٔ لره خور وه پس دے لره نیمه دَ هغه مال ده چه پریخودلے وی او دا رور وارث دے دَ ټول مال دَ ښځے که نوی هغے لره هیڅ اولاد، پس که وی دا دواړه دوه خویندے پس دے دواړو لره دوه دریمے دی دَ هغه نه چه پریخودلے دے اوکه وی دوی رونړه خویندے نارینه او زنانه پس نارینه لره پشان دَ برخے دَ دوو زنانو دے بیانوی الله تعالیٰ تاسوته ګمراهی (دَ هدایت نه جدا) اوالله تعالیٰ په هرڅیز پوهه دے (۱۷٦)

[۱۷۳] دا بشارت اوتخویف دے۔

[۱۷٤] دا ترغیب دے قرآن ته اوصدق دَ قرآن دے ﴿بُرْهَانٌ﴾ نه مراد قرآن دے یا رسول او ﴿نُوْراً﴾ قرآن کریم دے۔ برهان، هغه دلیل قطعی ته وئیلے شی چه یقین پیدا کوی او په هغے سره په مقابل باندے غلبه حاصلیږی۔

[۱۷۵] دا بشارت دے منونکوته ﴿وَاعْتَصَمُوْا بِهٖ﴾ ضمیر راجع دے الله تعالیٰ ته یا برهان یانورته ټول توجیهات جائزدی ﴿رَحْمَةٍ﴾ مراد دَ دے نه جنت دے په آخرت کښ اوفضل زیات ثوابونه دی یامراد دَ رحمت نه هدایت دَ ایمان اوفضل نه مراد کمال دَ دین دے ﴿وَيَهْدِيْهِمْ﴾ دا په دُنیا کښ دے۔

[۱۷٦] دا ایت تنویردے په مسئله دَ میراث اودا مثال دَ صراط مستقیم او دَ نورانیت دے چه په باره دَ میراث کښ ده، جاهلیت نه خلاف کول نیغه لاره ده۔ پدے ایت کښ دَ اعیانی اوعلاتی رور اوخور دَ حصو ذکردے او دَ هغے تفسیر مخکښ تیر شوے دے اوپدے ایت کښ دَ میراث ځلورمسئلے دی۔ کلالة هغه سړی ته وئیلے شی چه په اصولو کښ ئے پلار نیکه نه وی اوپه فروعو کښ ځوئے اونوسے نه وی ﴿اَنْ تَضِلُّوْا﴾ یومعنیٰ دا ده چه ګمراه نشئے دلته لاپټ دے۔ دویمه معنیٰ دا ده بیان کوی الله تعالیٰ ګمراهیٔ لره دَ هدایت نه، ان تضلوا په تاویل دَ مصدر سره دے او مقابل ئے پټ دے یعنی الهدایة۔

سُوْرَةُ الْمَآئِدَة (٥) مَدَنِيَّة (١١٢) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ١٢٠ رُكُوْعَاتُهَا ١٦

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَوْفُوْا بِالْعُقُوْدِ ۭ اُحِلَّتْ لَكُمْ بَهِيْمَةُ الْاَنْعَامِ اِلَّا مَا يُتْلٰى عَلَيْكُمْ غَيْرَ مُحِلِّي الصَّيْدِ وَاَنْتُمْ حُرُمٌ ۭ اِنَّ اللّٰهَ يَحْكُمُ مَا يُرِيْدُ ① يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُحِلُّوْا شَعَاۗىِٕرَ اللّٰهِ وَلَا

اے ایمان والو: پوره کړئے لوظونه، حلال کړے شوی دی تاسولره څاروی مګر هغه چه لوستے کیږی په تاسو باندے مه کیږئ حلال ګنړونکی د ښکار او چه تاسوپه حال احرام کښ یئ یقیناً اللّٰه تعالیٰ فیصله کوی هغه چه اوغواړی(١) اے ایمان والو! بے عزتی مکوئے د نخودَ اللّٰه تعالیٰ اونه

سورة المائدة

ربط: د دے د مخکښ سورت سره دا دے چه مخکښ سورت کښ رد وو په مظالمو د جاهلیت په باره د کمزوری مخلوق کښ اوس ردکوی په مظالمو د جاهلیت باندے په باره د حلت و حرمت کښ۔

دعویٰ د سورة: امر په وفاء د عقودو ایمانیو عموماً اوپه باره د تحلیل و تحریم کښ خصوصاً سرهٔ د ردکولونه په هغه کسانوباندے چه وفاء ئے په عقودونه ده کړے چه یهود اونصاریٰ دی اورد دے په اقساموَد شرك یعنی شرك فی التصرف، شرك فی العلم ؛ شرك فی العبادة شرك فی التحلیل والتحریم او د معرفة الٰهیه دپاره ئے شپارس اسماء حسنیٰ ذکرکړی دی۔

خلاصه د سورة : په طریقه د اجمال سره دا ده چه شپارس کرته يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا ئے ذکرکړے اودا عقود ایمانیه دی اووه اوامر، شپږ نواهی درے اخبارات اودَ سورة په اول اواخرکښ خطابات دی په باره د مؤمنانو اوپه مینځ کښ تفصیل د قبائحودَ اهل کتابو او دعوت دے نصاریٰ ته ۔

خلاصه تفصیلی داده: چه سورة کښ درے حصے دی اوله حصه تر ٤١ پورے ده په دے کښ دوه بابونه دی اول باب تر ١٤ پورے دے پدے کښ پنځه خطابات دی مؤمنانوته او هغه عقود دی په هغے کښ رد دے په شرك فی التحلیل والتحریم باندے۔

تفسیر

[١] عُقُوْد: هغه ټول احکام دی چه په تقاضا د ایمان سره په قران او سنت کښ لازم کړے شویدی عموماً او په باره د تحلیل اوتحریم کښ خصوصاً او هرکله چه دا سورت نازل شویدے په وخت د فتح د مکه کښ او د مشرکانو رسوم شرکیه دحلال اوحرام په هغه وخت کښ رائج وؤ نو اول ئے رد اوکړو په شرك فعلی(شرك فی التحلیل و التحریم) باندے ۔ او فرق په مینځ د عقود اوعهودکښ دادے چه عقود خاص دی په ایمان والو پورے اوعهود عام دی هرچاته چه اسمانی کتاب ئے منلے وی که کتابی کافروی اوکه مؤمن وی ﴿بَهِيْمَةُ الْاَنْعَامِ﴾ بهیمة د بهم نه ماخوذ ده هغه څیزته وئیلے شی چه ژبه ئے وی لیکن خبرے نشی کولے او انعام د نعم نه دے څریدونکی مال ته وئیلے شی او د دواړومصداق یودے یعنی څاروی (چارپایه) ﴿اُحِلَّتْ﴾د مطلق تحلیل دپاره استعمالیږی لیکن دلته کښ مراد د دے نه رد دے د مشرکانو په

الشَّهْرَ الْحَرَامَ وَلَا الْهَدْيَ وَلَا الْقَلَآئِدَ وَلَآ آٰمِّيْنَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ يَبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنْ رَّبِّهِمْ وَ
رِضْوَانًا ط وَاِذَا حَلَلْتُمْ فَاصْطَادُوْا ط وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَاٰنُ قَوْمٍ اَنْ صَدُّوْكُمْ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ اَنْ
تَعْتَدُوْا ۘ وَتَعَاوَنُوْا عَلَى الْبِرِّ وَ التَّقْوٰى ۘ وَلَا تَعَاوَنُوْا عَلَى الْاِثْمِ وَ الْعُدْوَانِ ۘ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ط اِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ
الْعِقَابِ ۝٧ حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ وَالدَّمُ وَلَحْمُ الْخِنْزِيْرِ وَمَآ اُهِلَّ لِغَيْرِ اللّٰهِ بِهٖ وَ الْمُنْخَنِقَةُ وَ

الرّبع ثمانیم

دَ میاشت دَ عزت اونه دَ قربانئ اونه دَ امیل والو څارؤو، اونه دَ قصد کؤونکو دَکوردَ عزت والا طلب کوئ فضل دَ رب خپل نه او رضامندی اوکله چه اوځئ دَ احرام نه پس بشکارکوئ (که خوښه شی) اونه دِ تیزوی تاسو بغض دَ یوقوم په دے وجه چه منع کړی وئ تاسولره دَ مسجد حرام نه چه دَ حد نه تیرشئ، اومدد کوئ دَ یوبل سره په نیکئ اوپه تقوئ باندے اومدد مه کوئ دَ یوبل سره په ګناه اوپه ظلم باندے، او ویره کوئ دَ اللّٰه تعالیٰ نه یقیناً اللّٰه تعالیٰ سخت عذاب والا دے (۲) حرام کړے ده په تاسو باندے مرداره، اووینه، اوغوښه دَ خنزیر، اوهغه چه آواز اوشی په هغے دَ منځتے دَ غیراللّٰه، اومرئے خفه کړے شوے، او

تحریم لغیراللّٰه باندے چه هغوی بحیره او سائبه و غیره په ځان باندے حرام ګنړل دارنګ معالم التنزیل کښ ئے وئیلی دی ﴿غَيْرَ مُحِلِّي الصَّيْدِ﴾ که لفظ دَ بهیمة الانعام شامل وی صیدته نو استثناء متصل ده اوکه شامل نه وی نواستثناء منقطع ده﴿ اِنَّ اللّٰهَ يَحْكُمُ مَا يُرِيْدُ﴾ داعلت دے دَ مخکښ تحلیل او تحریم په اجمالی طریقے سره اوپه دے کښ رد دے په معتزلوباندے هغوی وائی چه په اللّٰه تعالیٰ باندے په احکامو شرعیو کښ مصلحت دَ بندګانو واجب دے نو دا غلطه خبره ده۔

[۲] په دے ایت کښ حکم ذکرکوی دَ هغه څیزونوچه دَ حرم کعبه سره ئے تعلق وی که مکان وی اوکه زمان وی څاروی وی اوکه انسانان (چه دَ هغے نه تعبیر کیدے شی په نذور الهیه سره) اوپه دے کښ درے منهیات اودرے مامورات دی اودا دَ عقودونه دویم عقد دے ﴿لَا تُحِلُّوْا﴾ احلال دَ حرمت خلاف کولو ته وئیلے شی او حرمة دوه قسمه دے یو قسم منهیات دی نو په هغے کښ احلال په معنیٰ دَ ارتکاب دَ منهی عنه دے او دویم قسم حرمت په معنیٰ دَ احترام اودَ عزت دے نوپه هغے کښ احلال په معنیٰ دَ بے احترامئ اوبے عزتئ کولو دے دلته دویمه معنیٰ مراد ده ﴿شَعَآئِرَ اللّٰهِ﴾ شعائرجمع دَ شعیرة ده هرهغه څیزچه په هغے سره بل څیزمعلومیږی یعنی خاص علامت اونښے ته وئیلے شی۔ بیا دَ هردین اومسلك دپاره خاص خاص علامات دی چه په هغے سره هغه دین اودَ هغه دین والا خلق معلومیږی لکه دَ هندوانو دَ دین نښه مندر(درمسال) او زنارپه غاړه کول دی اودَ انګریزانونښه صلیب ساتل اوګرجا وغیره ده نودا رنګ دَ دین اسلام دپاره خاص علامات دی لکه مساجد، مونځونه، مناسك دَ حج (صفا، مروه، منیٰ، مزدلفه، عرفات) قرآن کریم اونورعبادات شرعیه چه داټول سبب دَ تقرب دَ اللّٰه تعالیٰ دی اومسلمان په دے اعمالوسره معلومیږی نودَ دے شعائراللّٰه بے عزتی کول حرام دی ﴿الْقَلَآئِدَ﴾ دا تخصیص دے روستودَ تعمیم نه یعنی هدی عام ده اوقلائد هغه څاروی وی چه دَ هغے څټ ته ئے څه علامت آویزان کړے وی اوحرم ته ئے اوړی یا لیږی نودَ هغے بے حرمتی کول هم حرام دی ﴿وَلَآ آٰمِّيْنَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ﴾ یعنی څوك چه دَ عمرے یا دَ

الْمَوْقُوْذَةُ وَالْمُتَرَدِّيَةُ وَالنَّطِيْحَةُ وَمَآ اَكَلَ السَّبُعُ اِلَّا مَا ذَكَّيْتُمْ ۛ وَمَا ذُبِحَ عَلَى النُّصُبِ وَاَنْ تَسْتَقْسِمُوْا بِالْاَزْلَامِ ۭ ذٰلِكُمْ فِسْقٌ ۭ اَلْيَوْمَ يَىِٕسَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ دِيْنِكُمْ فَلَا تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِ ۭ اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ وَاَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِيْ وَرَضِيْتُ لَكُمُ الْاِسْلَامَ دِيْنًا ۭ فَمَنِ اضْطُرَّ فِيْ مَخْمَصَةٍ غَيْرَ مُتَجَانِفٍ لِّاِثْمٍ ۙ فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝٣ يَسْـَٔـلُوْنَكَ مَاذَآ اُحِلَّ لَهُمْ ۭ قُلْ اُحِلَّ لَكُمُ الطَّيِّبٰتُ ۙ

پکولے شوے، اورارغختے، اوپه خکر وهلے شوے، اوهغه چه خورلے وی درنده کانو، مګرهغه چه حلال ئے کړئے تاسو اوهغه چه ذبح کړے شوے وی په دَ رګاهونو دَ غیرالله اوچه قسمت معلوموئے تاسو په غشوسره داکارونه لویه نافرمانی ده نن ناامیده شول کافران دَ دین ستاسونه پس مه یریږئ دَ دوینه او ویریږئ ځمانه نن پوره کړو ماتاسو لره دین ستاسو اوپوره مِ کړو په تاسو باندے نعمت خپل او غوره کړے مِ دے تاسو لره اسلام دین۔ پس څوك چه ناچاره کړے شوپه سخته لوږه کښ نه ژو کړیدونکے ګناه ته، پس یقیناً الله تعالیٰ بخونکے دے رحم کؤونکے دے (۳) تپوس کوی دوی ستانه چه څه شے حلال کړے شوے دے دوی لره؟ اُوایه: حلال کړے شوی دی تاسوته پاك څیزونه

حج قصدکوی نودَ هغوی منع کول اودَ هغوی بے حرمتی کول حرام دی اوپه دے کښ دوه قوله دَ اهل علمودی اول داچه دا لفظ مشرکانوته هم شامل دے نوبیا په هغے کښ نسخ (تخصیص) کړے شویدے په سبب دَ ا یت﴿فَلَا يَقْرَبُوا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ﴾ سره دویم قول دادے چه مراد دَ دے نه صرف مؤمنان دی په دلیل دَ دے چه ورضواناً خاص دے په مؤمنانو پورے، دویم قول غوره دے ﴿اِصْطَادُوْا﴾ امرډپاره دَ اباحت دے﴿وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَاٰنُ قَوْمٍ﴾ دا تعلق لری دَ امّین البیت الحرام سره اوعطف دے په لاتحلوا باندے مقصد دا دے چه په واقعه دَ حدیبیه کښ مشرکانو مؤمنانو لره دَ مسجد حرام نه منع کړل نودَ هغوی په زړونوکښ دَکافرانو سره ډیربغض اودُشمنی پیدا شوه نوهرکله چه په اتم کال دَ هجرت باندے مکه مکرمه فتح شوه او ډیرو مشرکانو ایمان راوړو نو هغوی عمرے اوحج له را تلل نوشاید چه دَ مؤمنانوپه زړونوکښ دا خیال راغلے وی چه هرکله دوی مونږلره دَ مسجد حرام نه په واقعه حدیبیه کښ منع کړی وؤ دَ دے وجے نه مونږ هم دوی لره دَ مسجد حرام نه منع کوؤ نوالله تعالیٰ مؤمنانولره دَ دے ارادے کولونه په دے قول ﴿وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ﴾ سره منع کړل دَ دوه وجهونه اوله وجه داوه چه دَ دوی ایمان راوړلوسره ټول ګناهونه معاف شول نودَ هغوی سره بغض اودُشمنی کول حرام شول۔ لایجرمنکم، دَ اجرام نه ماخوذ دے یعنی په کسب کولودَ جرم باندے آماده کول،شنان، سخت بغض ته وئیلے شی﴿وَلَا تَعَاوَنُوْا عَلَى الْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ﴾ اثم پریخودل دَ اوامرودَ الله تعالیٰ اوعدوان ارتکاب دَ منهیاتودے یا اثم هغه ګناهونه چه تعلق لری دَ حقوق الله تعالیٰ سره اوعدوان هغه ګناهونه چه تعلق لری دَحقوق العباد سره۔

[۳] په دے ایت کښ تفصیل دَ محرماتو الٰهیو دے په ذکر دَ دولس محرماتو سره چه په هغے کښ ما اُهِلَّ او ما ذُبِحَ عَلَى النُّصُب کښ نذردَ غیرالله مراد دے چه هغه عمل دَ شرك دے او دا رنګ دا تفصیل دَ مایُتلٰی علیکم (چه په اول ایت کښ ذکر وؤ) دے ﴿وَالْمُنْخَنِقَةُ﴾دا او دَ دے څلور څیزونو تخصیص بعد التعمیم دے دَ لفظ دَ میتة نه او میته عامه (هر هغه څاروے چه نه وی ذبح کړے شوے په ذبح شرعی سره یا حرام دی

شرعا اگرچه ذبح شي په ذبح شرعي لکه سپے وغیره) ده او دا پنځه هغه ځاروی دی چه شرعاً حلال دی لیکن ذبح ئے په ذبح شرعي سره نه ده کړے شوے نو مردار دی ، او منخنقه عام دی که ځوك ئے قصدا پهانسی کړی (په مرئے خفه کولو سره) یا پخپله داسے اوشی ﴿وَالْمَوْقُوْذَةُ﴾ هغه ځاروے چه او وهلے شی په لرګی یا په ګټه باندے اومړشی اوپه دے کښ داخل دے هغه ښکارچه دَ غشی په پلنو سره او لګی یعنی دَ غشی په تیره طرف نه بلکه په اوږدوسره اولګی (اوداپه حدیث صحیح کښ دی) اوشربینی وئیلی دی چه هغه ښکارچه په بندقه سره اولګی هغه هم پدے کښ داخل دے (بندقه ګولے دَ توپك ته وئیلے شی) ځکه چه هغه دَ دروندوالی دَ وجے نه قتل کوی دَ تیره والی دَ وجے نه نه کوی ﴿وَالْمُتَرَدِّيَةُ﴾ هغه چه دَ بره ځائے نه ځکته اوغور زیګی دَ غریا دَ کمرنه زمکے ته یا دَ زمکے نه کوهی ته اورغړی ﴿وَالنَّطِيْحَةُ﴾هغه ده چه دَبل ځاروی په ښکرسره او وهلے شی اومړه شی اګرچه وینه دَ هغے دَ مرئے نه بهیدلے وی ﴿وَمَآ اَكَلَ السَّبُعُ﴾ سپے، شرمخ، ګیدړ، پرانګ، وغیره په دے کښ مراد دی هغوی که یوځاروے اوخوری اګرچه په مرئے کښ زخمی کړی او وینه ترینه اوبهیږی اومړشی نوهم مردار دے ﴿اِلَّا مَا ذَكَّيْتُمْ﴾ دا استثناء متصل ده دَ المنخنقة اوما بعد نه ځکه چه هغه عام دے چه روستو دَ دغه عوارضونه په هغے کښ روح باقی وی اوکه نه وی نوکه روح پکښ باقی وی اوذبح کړے شی په طریقه شرعیه سره نوحلال به وی یا استثناء منقطع ده داخطیب شربینی لیکلی دی بعضودا استثناء خاص کړیده، ما اکل السبع، پورے لیکن تخصیص ته حاجت نیشته ، او بعض (دَ دے وخت تحریف کوؤنکو) وما اهل لغیرالله به ترے خاص کړیدے او وئیلی دی چه هغه په ذبح سره حلال ګرځی لیکن دا قول باطل دے ﴿وَمَا ذُبِحَ عَلَى النُّصُبِ﴾ دا قسم خاص دے دَ ما اهل نه ځکه چه ما اهل مذبوح اوغیرمذبوح دواړوته شامل دے اوداپه مذبوح پورے خاص دے دا رنګ دا قسم دَ نُصب سره خاص دے اوما اهل لغیر الله ټول غیرالله ته شامل دے که نصب وی اوکه بتان وی اوکه قبرونه پوهه شه چه اصنام هغه بتان دی چه شکل دَ هغے جوړ کړے شویوی او نصب هغه ځیزونه دی چه شکل دَ هغے نه وی جوړ کړے شوے لیکن دَ هغے عبادت کیږی اوپه هغے باندے نذرانے اوشکرانے اچولے کیږی اوپه هغے باندے ذبح کوی ﴿وَاَنْ تَسْتَقْسِمُوْا بِالْاَزْلَامِ﴾ استقسام قسمة معلومول دی یا برخه معلومول ـ ازلام جمع دَ زَلم ده هغه غشی چه دَ هغے وزَر اوتیره ځوکه نه وی صرف لرګے وی ابن جریر وئیلی دی چه داغشی (درے یا اووه)دَ هبل بت په خواکښ دَکعبے په مینځ کښ به پراته وؤ چابه چه خپل قسمت معلومول غوختل مثلاً سفر اوکړم یانه فلانکے کار اوکړم که نه نودَ هبل مجاورته به لاړو اوهغه ته به ئے سل درهمه اویواوښه پیش کړه په نذرانه کښ بیا به هغه مجاوردَ دهٔ دپاره غشی راویستل په هغے باندے مختلف لیکل موجود وؤ او هغه به دے شخص خپل یقینی قسمت ګنړلواو وئیل به ئے چه دا دَ هبل(شهید) فیصله ده ﴿ذٰلِكُمْ فِسْقٌ﴾ دا اشاره ده ما قبل ذکر کړے شوو ټولومحرماتوته یعنی استحلال دَ دے حراموتل دی دَ طاعت دَ الله تعالیٰ نه بالکل یعنی کفراوشرك دے﴿اَلْيَوْمَ يَئِسَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ دِيْنِكُمْ﴾ مراد دَ الیوم نه زمانه حاضردَ نزول دَ دے محرماتوده سرهٔ دَ راتلونکو زمانونه (قرطبی اوسراج المنیر) ﴿مِنْ دِيْنِكُمْ﴾ قرطبی وئیلی دی چه کافران نا امیده شول دَ رجوع ستاسودَ دین ستاسونه دین دَ مشرکانوته-

وَمَا عَلَّمْتُمْ مِّنَ الْجَوَارِحِ مُكَلِّبِيْنَ تُعَلِّمُوْنَهُنَّ مِمَّا عَلَّمَكُمُ اللّٰهُ فَكُلُوْا مِمَّآ اَمْسَكْنَ عَلَيْكُمْ وَاذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ عَلَيْهِ ۠ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ۝ اَلْيَوْمَ اُحِلَّ لَكُمُ الطَّيِّبٰتُ ؕ وَطَعَامُ الَّذِيْنَ اُوْتُوا

اوښکاردَ هغه څیزچه تعلیم ورکړے وی تاسودَ ښکارکړونکونه چه لیګونکی یئ تاسو، خودنه ورکوئے تاسوهغویته دَ هغه څه نه چه خودنه کړے ده تاسوته اللّٰه تعالیٰ پس خورئے دَ هغے نه چه بند ساتلے وی دوی تاسوله او یا دوئے نوم دَ اللّٰه تعالیٰ په هغے باندے او اوبریږئ دَ اللّٰه تعالیٰ نه یقیناً اللّٰه تعالیٰ زر حساب کړونکے دے (٤) نن حلال کړے شویدی تاسولره پاك څیزونه او حلاله دَهغه کسانو چه ورکړے شوے دے ورته

﴿اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ﴾ الیوم نه مرادورځ دَ جمعے ده چه ورځ دَ عرفے ده په مقام عرفات کښ روستودَ مونځ دَ ظهراوعصرنه او ورځ دَ حجة الوداع وه اودَ سعید بن جبیرنه روایت دے چه نبیﷺ روستودَ نزول دَ دے جملونه یواتیا (٨١) ورځے ژوندے وو بیا وفات شو۔اومعنیٰ دَ اکمال دانه ده چه دَ دے نه روستو وحی بنده شوه بلکه مراد دا دے چه تر دے پورے فرائض اواحکام تشریعیه اوحلال اوحرام بیان شول دَ دے نه روستو فرائِض حلال حرام حدودنه دی نازل شوی او نوره وحی نازلیدله ۔

سوال: اکمال خودلالت کوی چه تر دغه وخت پورے دین ناقص وؤ آیا نبی او صحابه کرامو تردغه وخت پورے په ناقص دین باندے عمل کوؤ او دارنګه دَ دغه ورځ نه وړاندے چه کوم صحابه وفات شویدی نودَ هغوی دین ناقص وؤ ؟

جواب: دین دَ نبیﷺ هره ورځ کامل دے په کمال سره ترخاص وخت پورے لیکن انتظاردَ نسخ یا دَ زیادت پکښ موجود وو او په دغه ورځ کمال مطلقه راغے یعنی کامل دے دَ ورځ دَ قیامت پورے نه به منسوخ کیږی او نه به پکښ زیادت دَاحکامو و غیره راځی﴿وَاَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِيْ﴾ خازن وئیلی دی چه دغه اکمال دَ دین سبب دے دَاتمام دَ نعمت ځکه دَ دین کامل (اسلام) نه زیات نعمت بل نیشته ، او ابن قیم رحمه اللّٰه وئیلی دی چه فرق دَ اکمال او دَ اتمام دا دے چه اکمال په اصولواوذواتوکښ استعمالیږی اواتمام په فروعو اوصفاتوکښ استعمالیږی ﴿وَرَضِيْتُ لَكُمُ الْاِسْلَامَ دِيْنًا﴾الاسلام کښ الف لام عهدی دی یعنی هغه چه کامل اوتام دے ﴿فِيْ مَخْمَصَةٍ﴾ اکراه اولوګے ته شامل دے په سورة بقره ایت (١٧٣) کښ ځکه دَ دغه سورتونو نزول مخکښ دَغلبے دَ اسلام نه وؤ، اوپه هغه وخت کښ دَ اکراه حالات پیښ راتلل اوپدے سورة کښ صرف مخمصه ذکرکړے ده ځکه دا سورة دَغلبے دَ اسلام نه روستونازل شویدے اوپه دغه حالت کښ صرف دَ لوګے یره وه۔

[٤] هرکله چه تیرشوی ایت کښ محرمات ذکرشول نوضرورسوال پیداشوچه دَ دے په مقابله کښ حلال څه دی او خصوصاً تپوس کړے شوے وؤپه باره دَښکارکولوکښ نوپدے ایت اودَ دے نه په روستو ایت کښ تفصیل دَحلالولودے﴿اَلطَّيِّبَاتُ﴾ سمعانی وئیلی دی چه مراد په دے سره هغه دی چه عرب ئیے ښه ګڼری او مزه ورکوی اودَ هغے په حرمت باندے کتاب وسنت نه وی راغلے﴿وَمَا عَلَّمْتُمْ﴾ دامعطوف دے په الطیبات باندے په حذف دَ مضاف سره (صید ما علمتم) یادا مستقل کلام دے دامبتدا ده اوفکلوا ئیے خبردے اودَ دے دَ حلّت دپاره پنځه شرطونه دی(جوارح، تکلیب، تعلیم، امساك، اوذکراسم اللّٰه)

الْكِتٰبَ حِلٌّ لَّكُمْ ۖ وَطَعَامُكُمْ حِلٌّ لَّهُمْ ۫ وَالْمُحْصَنٰتُ مِنَ الْمُؤْمِنٰتِ وَالْمُحْصَنٰتُ مِنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ
مِنْ قَبْلِكُمْ اِذَآ اٰتَيْتُمُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ مُحْصِنِيْنَ غَيْرَ مُسٰفِحِيْنَ وَلَا مُتَّخِذِيْٓ اَخْدَانٍ ۭ وَمَنْ يَّكْفُرْ
بِالْاِيْمَانِ فَقَدْ حَبِطَ عَمَلُهٗ ۠ وَهُوَ فِي الْاٰخِرَةِ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ۝ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا قُمْتُمْ اِلَى ع ٥
الصَّلٰوةِ فَاغْسِلُوْا وُجُوْهَكُمْ وَاَيْدِيَكُمْ اِلَى الْمَرَافِقِ وَامْسَحُوْا بِرُءُوْسِكُمْ وَاَرْجُلَكُمْ اِلَى الْكَعْبَيْنِ ۭ وَاِنْ
كُنْتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُوْا ۭ وَاِنْ كُنْتُمْ مَّرْضٰٓى اَوْ عَلٰي سَفَرٍ اَوْ جَاۗءَ اَحَدٌ مِّنْكُمْ مِّنَ الْغَاۗىِٕطِ اَوْ لٰمَسْتُمُ
النِّسَاۗءَ فَلَمْ تَجِدُوْا مَاۗءً فَتَيَمَّمُوْا صَعِيْدًا طَيِّبًا فَامْسَحُوْا بِوُجُوْهِكُمْ وَاَيْدِيْكُمْ مِّنْهُ ۭ مَا يُرِيْدُ اللّٰهُ

کتاب حلال ده تاسولره اوحلاله ستاسوحلال ده هغوی لره اوپاك لمنے مؤمنے بنځے اوپاك لمنے دَ هغه چانه چه ورکړے شویدے هغوی ته کتاب مخکے ستاسونه کله چه ورکوئے تاسوهغوی ته مهرونه دَ هغوی نکاح کؤونکی به ږئ نه به ږئ بنکاره بدکاری کؤونکی اونه به ږئ پټے آشنائي نیؤونکی اوچاچه کفرکاږ کړودَ ایمان سره پس یقیناً برباد شوعمل دَ دهٔ او دے به په آخرت کښ دَ تاوان والونه وی (٥) اے ایمان والو: کله چه پاسیږئ مانځه ته پس اوینځے مخونه خپل اولاسونه خپل دَ څنګلوسره اومسحه اوکړئے په سرونو خپلو او(اوینځے) خپے خپلے دَګیټوسره اوکه ږئ تاسوجنب پس ځان بنه پاك کړئے، اوکه تاسوږئ بیماران یاکه ږئ په سفرباندے یاراشی یوتن ستاسونه دَ لوئے حاجت نه یایوځائے شوی ږئ تاسودَ زنانو سره پس نه مومئ تاسواوبه، پس تیمم اوکړئے په خاوره پاکه پس مسحه اوکړئے په مخونوخپلو اوپه لاسونو خپلودَ هغے نه، نه غواړی اللّٰه تعالیٰ

﴿الْجَوَارِحِ﴾ دا جمع دَ جارحة ده اوجرح په معنیٰ دَ کسب سره دے لکه په سورة انعام (٦٠) کښ اومراد دَ دے نه سپے، پرانګ، باز، شاهین اوهغه ټول څیزونه چه تعلیم قبلوی اوهرکله چه جرح زخم ته هم وئیلے شی نوامام ابوحنیفةؒ زخم دَ بنکارهم شرط کړے دے ﴿مُكَلِّبِيْنَ﴾ تکلیب لیږل اوتیزی ورکول دی په بنکار باندے دَ دے نه معلومه شوه چه کوم سپے (مثلاً) بغیرد لیګلودَ مالك نه څه بنکاراونیسی اومړشی نوهغه بنکارحلال نه دے ﴿عَلَّمَكُمُ اللّٰهُ﴾ هغه شرطونه چه قرآن اوسنت کښ خودلے شوی دی چه بنکارپسے په ارسال دَ مالك سره ځی ، اوهسے نه ځی، اوچه مالك ئے واپس راغواړی نوواپس راځی اودَ بنکارنه هیڅ حصه نه نیمګړے کوی ﴿فَكُلُوْا مِمَّآ اَمْسَكْنَ عَلَيْكُمْ﴾ امساك دا دے چه دَ بنکارنه هیڅ حصه ځان دپاره نه خوری او اهل علم شرط لګولے دے چه داکار (امساك) درے کرته اوکړی نو معلّم به شی۔

[٥] داهم تفصیل دحلالودے هغه حلال چه تعلق لری دَکتابیانواودَ مسلمانانوسره﴿وَطَعَامُ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ حِلٌّ لَّكُمْ﴾ ابن کثیر وئیلی دی چه اجماع ده دَ مسلمانانوچه مراد دَ طعام نه ذبائح دی یا عام دی چه ذبائح پکښ داخل دی په دے شرط سره چه نوم دَغیراللّٰه ئے ورباندے نه وی ذکر کړے ۔ او دلته مراد دَ طعام نه ذبائح دی ځکه چه سیوا دَ مذبوح نه نور خوراکونه دوډ ئے ، میوے وغیره خودَ غیرکتابی کافرانو هم جائزدی اودلیل نقلی دا دے چه نبیﷺ په ورځ دَ خیبردَکتابیانودعوت قبول کړے وؤ چه غوښه دَ بیزے وه او دوی پکښ زهراچولی وؤ۔ اوتخصیص دَ ذبح دَ یهودیانودَ حل په دے وجه سره دے چه دَ دوی په

لِيَجْعَلَ عَلَيْكُمْ مِّنْ حَرَجٍ وَّلٰكِنْ يُّرِيْدُ لِيُطَهِّرَكُمْ وَلِيُتِمَّ نِعْمَتَهٗ عَلَيْكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ۝٦ وَاذْكُرُوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَمِيْثَاقَهُ الَّذِيْ وَاثَقَكُمْ بِهٖٓ ۙ اِذْ قُلْتُمْ سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا ۡ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ

چه کیدی په تاسوباندے څه تنګسیاء اولیکن غواړی چه پاك کړی تاسو اودے دپاره چه پوره کړی نعمت خپل په تاسو باندے دپاره دَ دے چه شکر اوکړئے تاسو(٦) اویاد کړئے نعمت دَ اللّٰه تعالیٰ په تاسو باندے (اوپوره کړئے) وعده دَ هغه چه پخه کړے ده تاسوسره هغه کوم وخت چه اُویل تاسو آوریدلے دے مونږ اوتابعداری کړے ده مونږ او اویریږئ دَ اللّٰه تعالیٰ نه یقیناً اللّٰه تعالیٰ

دین کښ ذبح په نوم دَغیراللّٰه باندے حرام ده، اودوی هم په خپله مذبوحه باندے نوم دَاللّٰه تعالیٰ ذکرکوی ﴿وَالْمُحْصَنَاتُ مِنَ الْمُؤْمِنَاتِ﴾ مراد دَ دے نه پاکدامنے دی که حره آزاده وی اوکه وینزه وی ځکه حلالوالے دَ وینزوپه سورة نساء اٰیت (٣٥)کښ ذکردے او دا جمله تمهید دے روستوجملے ته ﴿وَالْمُحْصَنَاتُ مِنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتَابَ﴾ دلته محصنات کښ دوه قولونه دی اول دا چه په معنیٰ دَ پکدامنو دے که حره وی اوکه وینزه وی که حربیه اوکه ذمیه وی او دا قول دَ امام ابوحنیفهؒ دے اودویم داچه په معنیٰ دَ حرائرو (آزادو) دے نونکاح دَ وینزے کتابیے جائزنه دے اودا قول دَ امام شافعیؒ دے اُوْتُوا الْكِتَابَ مراد د دے نه یهود اونصاریٰ دی سرهٔ دَ دے نه شرك اوکفرکوی ځکه چه مؤحدے مؤمنے خوپه محکښ لفظ (المؤمنات) کښ داخلے دی او دا قول دَ ټولو اهل سنت والجماعت دے۔

سوال: دَابن عمررضی اللّٰه عنهما نه روایت دے چه نکاح دَ کتابیانو مشرکانو سره جائز نه دے؟

جواب: منع دَ هغه په کراهیت باندے حمل ده لکه چه دَعمرؓ نه هم کراهیت نقل دے سرهٔ دَ جواز نه ﴿وَمَنْ يَّكْفُرْ بِالْاِيْمَانِ﴾ دا جواب دَ سوال دے هرکله چه نکاح دَکتابیه مشرکے سره جائزکړے شونو معلومیږی چه دَ هغوی دین هم صحیح دے ؟ جواب اوشو چه دَ هغوی په دین کښ کفرګانو دے دَ ایمان سره نوهغه دین باطل دے، بِالْاِيْمَانِ مراد دَ دے نه مؤمن بِهٖ دے یعنی توحید، رسالت قرآن، بعث بعد الموت و غیره اوکفرپه معنیٰ دَ جحود او انکار سره دے۔

[٦] ربط دا دے چه هرکله چه طهارة معنویه دَ خوراك اودَ نکاح دپاره ذکرشونواوس طهارت ظاهره ذکرکوی دَ حدث (پلیتئ) اوجنابت نه اودا دَ استعمال دَ خوراك اونکاح نه پیداکیږی او دا یوعقد دَ عقودو دے دَ ایمان والونه ﴿اِذَا قُمْتُمْ اِلَى الصَّلٰوةِ﴾ مراد دَ دے نه اراده دَ قیام ده لیکن په لفظ دَ قیام سره ئے ذکرکړواشاره ده چه دَ فعل دَ ارادے نه جدا والے پکارنه دے۔

سوال: دَ دے نه معلومیږی چه دَ هرمونځ سره اودس کول واجب دی؟۔

جواب: په دے کښ لفظ دَ محدثون (چه بے اودسه یئ) پټ دے په دلالت دَ حدیث صحیح سره چه نبیﷺ په واقعه دَ خندق کښ څلورمونځونه اوپه واقعه دَ فتح مکه کښ پنځه مونځونه په یو اودس سره کړی دی ﴿فَاغْسِلُوْا وُجُوْهَكُمْ﴾ قرآن کریم کښ دا څلوراعضاء خاص ذکرکړی دی دلیل دے چه په اعتباردَ غسل اودَ مسح (پاکوالی) سره دا څلورفرض دی نوکه په بل حیثیت سره دَ یوځیزفرضیت یعنی په حدیث سره معلوم شی نوهغه دَ دے سره منافات نه لری لکه نیت کول وغیره۔

عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ۝ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُوْنُوْا قَوّٰمِيْنَ لِلّٰهِ شُهَدَآءَ بِالْقِسْطِ ۫ وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ

پوهه دے په هغه خبرو چه په سینوکښ دی (۷) اے ایمان والو: شئے تاسو کلك دپاره دَ الله تعالیٰ بیان کؤونکی شئے دَ انصاف اوتیزدِ نه کړی تاسو لره

فائده: دَ دے اعضاؤ تخصیص په دے وجه سره دے چه دَ انسان دَپاره پاك والے خودَ ټول بدن ضروری دے لیکن ټول بدن وینځل هر وخت تکلیف دے نودَ هغه اندامونو ذکر او شو چه دَ انسان دَ بدن نه هر وخت بنکاره وی یا بنکاره کول ئے اسان وی او هغه دا ځلور دی ﴿اِلَى الْمَرَافِقِ﴾ الٰی په معنیٰ دَ مع سره په ډیرو ایاتونو کښ شته لکه سورة نساء(۲) او هود(۵۲) یا دا چه ید په اصل کښ تراوګے پورے دے نوالٰی دپاره دَ غائیے دَ اسقاط دے یعنی مرافقونه بره حصه ساقطه ده ﴿وَامْسَحُوْا بِرُءُوْسِكُمْ﴾ با دپاره دَ الصاق ده یا زائد ده یا په معنیٰ دَ تبعیض ده، بیا په اول دوه توجیهاتوباندے مسح دَ ټول سرمراد د ه لکه چه دا قول دَ امام مالكؒ اوامام احمدؒ دے اوبنا په دریم قول باندے مسح دَ بعض حصے دَ سرفرض ده چه هغه په مقدار دَ ناصیه ده ﴿وَاَرْجُلَكُمْ﴾ په دے کښ دوه قراءات دی اول په زوردَ لام سره نوعطف دے په وجوهکم او ایدیکم باندے نودا دلیل دے چه غسل (وینځل) دَ خپوفرض دی اوبل قرائت په زیردَ لام سره دے نودا دَ وجے دَ جوازنه دے یعنی دَ وجے دَ ګاونډګیرئے دَ برؤسکم نه زیردے۔ اوپه معنیٰ کښ عطف دے په ایدیکم باندے یا عطف دے په ارجلکم باندے لیکن مراد دَ دے نه مسح ده په حال دَ موزواغوستلوکښ۔ اوشیعګان وائي چه دَ قرائت دَ زیرنه معلومه شوه چه مسح په بر بنډوخپوباندے فرض ده اودَ دے وجے نه هغوی انکارکوی دَ مسح دَ موزو اودَ جورابونه۔ اودا قول دَ دوی دَ اول قرائت نه خلاف دے اودارنګ دَ احادیثِ متواتره نه چه راغلی دی په باره دَ وینځلودَ خپواوپه باره دَ مسح دَ موزوکښ نه دَ دوی قول مخالف دے ﴿اِلَى الْكَعْبَيْنِ﴾ قرطبی وئیلی دی چه په لغت اوپه سنت سره ثابت ده چه دَکعب نه مراد هغه دوه ګیټئے دی چه دَ پنډئے دَلاندے اودَ خبے دپاسه دی او په هره خپه کښ دوه دی ﴿وَاِنْ كُنْتُمْ مَّرْضٰٓى﴾ مراد دَ مرض نه هغه مرض دے چه په هغے سره عاجزوی دَ استعمال دَ اوبونه یا مرض زیاتیږی ﴿مِّنَ الْغَآئِطِ﴾ په لغت کښ کوزځائے ته وئیلے شی نوذکردَ محل اومراد ترینه حال دے یعنی اودس ماتے کول ﴿اَوْ لٰمَسْتُمُ النِّسَآءَ﴾ په لمس کښ اختلاف دے دَ صحابه کرامودَ ابن مسعود ﷺ په نیزباندے لمس په لاس سره دے او بنکولول هم پدے کښ داخل دی چه په هغے سره اودس ماتیږی او په نیزدَ ابن عباس ﷺ لمس په معنیٰ دَ جماع کولو دے چه په دے سره جنابت حاصلیږی ﴿فَلَمْ تَجِدُوْا مَآءً﴾ وجدان لفظ دلالت کوی په طلب دَ اوبو باندے تراستطاعت پورے اوعدم وجدان عام دے نه موندل په ظاهرکښ یانه موندل په اعتباردَ عدم قدرت بدنی یعنی دَبیمارئے دَ وجے نه ﴿تَشْكُرُوْنَ﴾ شکر کښ مراد عمل کول دی په دے امورو باندے۔

[۷] دا هم تعلق لری دَ اوفوا بالعقود سره، ترغیب دے ایفاء دَ عقودوته په درے طریقو سره اول ذکردَ نعمت په طریقه دَ شکر سره دے اودلته مراد دَ نعمت نه جنس نعمتونه دی چه بے شماره دی هدایت کول دین اسلام ته ، ژوند ، صحت وغیره او هغه نعمتونه چه محکښ ایت کښ ذکرشول ﴿وَمِيْثَاقَهُ﴾ دا دویمه طریقه دَ ترغیب ده چه دا عقود خوستا سوپه میثاق کښ داخل دی نودَ دے ایفاء واجب ده اکثرمفسرینو وئیلی دی چه صحابه کرامو په وخت دَ بیعت دَ نبیﷺ کښ عقدکړے وؤاو بیعت دَ نبی سره بیعت دے دَالله

شَنَاٰنُ قَوْمٍ عَلٰٓى اَلَّا تَعْدِلُوْا ؕ اِعْدِلُوْا ۟ هُوَ اَقْرَبُ لِلتَّقْوٰى ۫ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ۝٨
وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ۙ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّاَجْرٌ عَظِيْمٌ ۝٩ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا
بِاٰيٰتِنَآ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَحِيْمِ ۝١٠ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اذْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ اِذْ هَمَّ قَوْمٌ اَنْ
يَّبْسُطُوْٓا اِلَيْكُمْ اَيْدِيَهُمْ فَكَفَّ اَيْدِيَهُمْ عَنْكُمْ ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ۝١١ ع

بغض دَ یو قوم په دے چه انصاف اونه کړئ۔ انصاف کوئے دا ډیر نزدے دے تقویٰ ته او اویریږئ دَ اللّٰه تعالیٰ نه یقیناً اللّٰه تعالیٰ خبردار دے په هغه عملونو چه تاسوئیے کوئے (۸) وعده کړے ده اللّٰه تعالیٰ دَ هغه چاسره چه ایمان ئے راوړے دے اوعمل ئے کړے دے په طریقه دَ پیغمبر دوی لره بخنه ده او ثواب لوئے دے (۹) اوهغه کسان چه کفر ئے کړے دے (په زړه) او دروغژن کړی دی آیاتونه ځمونږ (په ژبه) دغه کسان دوزخ والا دی (۱۰)اے ایمان والو: یادوئ نعمت دَ اللّٰه تعالیٰ په تاسو باندے کوم وخت چه قصد اوکړو یوقوم چه اوګده کړی تاسوته لاسونه خپل پس بندئے کړل لاسونه دَ هغوی ستاسونه، او اویریږئ دَ اللّٰه تعالیٰ نه اوخاص په اللّٰه تعالیٰ دِ پس ځان اوسپاری مؤمنان (۱۱)

تعالیٰ سره، اوبعضے مفسرینو وئیلی دی چه مراد دَ دے نه میثاق دَ یوم الذّر دے ﴿الَّذِیْ وَاثَقَكُمْ بِهٖٓ﴾توثیق دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه په هر وخت کښ یاد داشت ورکول دی په قرآن کښ اوپه ژبه دَ رسول اللّٰه ﷺ سره﴿وَاتَّقُوا اللّٰهَ﴾ دا دریمه طریقه دَ ترغیب ده اومراد دَ تقویٰ نه ځان ساتل دی دَ بے لوظئی نه اګرچه په زړه کښ وی اوپټه وی۔

[۸] داهم متعلق دے په اوفوا بالعقود پورے اوترغیب دے ایفاء عقود ته په درے طریقوسره (قوام، عدل، تقویٰ) اونهی دَ سبب دَنقض عهد نه چه تعصب دَ دُشمنئ دے ﴿كُوْنُوْا قَوّٰمِيْنَ لِلّٰهِ﴾ پوره استقامت کوونکی اوپوره کوشش صرف کوونکی په حقوق اللّٰه کښ لِلّٰه فقط دَاللّٰه تعالیٰ دپاره ﴿شُهَدَآءَ بِالْقِسْطِ﴾ دا حقوق العباد ته اشاره ده شهادت عام د ے ګواهی کول او دارنګ بیان اودعوت دَحق خلقوته په عدل اورشتیا سره چه دَخپلولحاظ نه وی اودَ دُشمنئ تعصب نه وی ﴿وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ﴾ اجرام باعث جوړیدل دی په جرم باندے ﴿شَنَاٰنُ﴾ دشمنئ اوبغض دَ باطن ته وئیلے شی ﴿قَوْمٍ﴾ مراد دَ دے عام دے کافران مشرکان یا هغه خلق چه روستو دَکفر نه ئیے ایمان راوړے دے دا رنګ هغه ځوک چه دَ هغوی سره دُنیوی عداوت وی نودغه دُشمنی دَ ترک عدل دپاره سبب نشی کیدلے ﴿اِعْدِلُوْا﴾ عام دے عدل په حقوق اللّٰه اوحقوق العباد کښ۔

[۹] په دے ایت کښ بشارت دے په ایمان او په عمل صالح سره اګر چه درجه دَ قوامین ته رسیدلے نه وی۔

[۱۰] په دے کښ تخویف اُخروی دے ﴿اُولٰٓئِكَ﴾ دا دلالت کوی په حصر باندے اواصحاب لفظ دلالت کوی په ملازمت باندے او ملازمه دلالت کوی په همیش والی یعنی همیشه عذاب حصردے په کافرانو کښ۔

[۱۱] داهم ترغیب دے ایفاء بالعقود ته په ذکرد نعمت دَ حفاظت سره دَ دُشمنانونه اوبشارت دُنیویه دے روستودَ اُخروی بشارت نه ﴿اِذْ هَمَّ قَوْمٌ﴾ دا شامل دے واقعه دَ غزوه عسفان ته چه مشرکینو اراده کړے وه

وَلَقَدْ اَخَذَ اللّٰهُ مِيْثَاقَ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ۚ وَبَعَثْنَا مِنْهُمُ اثْنَيْ عَشَرَ نَقِيْبًا ؕ وَقَالَ اللّٰهُ اِنِّيْ مَعَكُمْ ؕ لَئِنْ اَقَمْتُمُ الصَّلٰوةَ وَاٰتَيْتُمُ الزَّكٰوةَ وَاٰمَنْتُمْ بِرُسُلِيْ وَعَزَّرْتُمُوْهُمْ وَاَقْرَضْتُمُ اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا لَّاُكَفِّرَنَّ عَنْكُمْ سَيِّاٰتِكُمْ وَلَاُدْخِلَنَّكُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۚ فَمَنْ كَفَرَ بَعْدَ ذٰلِكَ مِنْكُمْ فَقَدْ ضَلَّ سَوَآءَ السَّبِيْلِ ﴿۱۲﴾ فَبِمَا نَقْضِهِمْ مِّيْثَاقَهُمْ لَعَنّٰهُمْ وَجَعَلْنَا قُلُوْبَهُمْ قٰسِيَةً ۚ

اویقیناً اخستے دے اللّٰه تعالیٰ پوخ لوظ دَ بنی اسرائیلونه اولیګلے دی مونږ دَ دوینه دولس مشران (ممبران) او ویلی ژواللّٰه تعالیٰ چه یقیناً ځه ستاسوسلګرے یم که تاسوپابندی کوئے دَ مانځه او ورکوئے زکوٰة اوایمان مو اولرلو په رسولانوځما او امداد مو اوکړو دَ دوی او قرض مو ورکړو اللّٰه تعالیٰ ته قرض په اخلاص خامخا لرے به کړم ستاسونه بدے ستاسواو خامخا داخل به کړم تاسوجنتونوته چه بهیږی لاندے دَ هغے نه ولے پس چاچه کفراوکړو روستودَ دے ستاسونه پس یقیناً غلط شودَ برابرلارے نه(۱۲) پس په وجه دَ ماتولودَ دوی لوظ خپل لعنت اوکړومونږپه هغوی او اوګرځول مونږ زړونه دَ هغوی سخت

چه په دے مؤمنانو باندے حمله کوؤپه وخت دَ مونځ دَ دوی کښ نوصلوٰة خوف نازل شواو واقعه دَ اعرابی چه په رسول اللّٰهﷺ باندے ئے توره راویستله وه اوبیا ئے ایمان راوړلواوواقعه دَ بنی نضیروچه نبیﷺ هغوی ته په باره دَ صلح کښ ورغلے وؤاودوی اراده دَ قتل دَ هغه اوکړله لیکن اللّٰه تعالیٰ بچ کړلواودَ عموم دَ وجے نه په دے کښ مراد مغلوبیت دَکافرانواومحفوظیت اوامن دَ مؤمنانوپه هردورکښ دے دا لوئیے نعمت دَ اللّٰه تعالیٰ دے﴿وَاتَّقُوا اللّٰهَ﴾ اشاره ده چه داسے نعمت حاصلیږی په تقویٰ او توکل علی اللّٰه تعالیٰ سره۔

[۱۲] دا متعلق دے دَ اوفوا بالعقود سره یعنی ذکرکوی حال دَوفا نه کوؤنکو(ناقضین دَ عهد) چه هغه یهودیان دی، نودا اوله نمونه ده دپاره دَے لوظئی کوؤنکی په طریقه دَ تخویف دُنیوی سره په ذکرد پنځه لوظونو اوبیا پنځه عذابونه دُنیوی په سبب دَ ے لوظئی سره ﴿نَقِيْباً﴾ تفتیش کوؤنکے دَ حالاتودَ بنی اسرائیلواو هغه ته کفیل اوامین اوضامن هم وئیلے شی، دولس خاندانونه وؤدَ بنی اسرائیلونودَ هریوخاندان دَ اصلاح اونظم ونسق جوړولودپاره یو یو نقیب مقرر وؤ او دا به په دوی کښ هر وخت موجود وؤ اودَ دوی نومونه قرطبی اوابن کثیرلیکلی دی ﴿اِنِّيْ مَعَكُمْ﴾ دَ سلف صالحینواجماع ده چه مراد دَ دے نه معیت خاصه دے په نصرة اومعونت سره ﴿لَئِنْ اَقَمْتُمُ الصَّلٰوةَ﴾ دا تفصیل دَ میثاق دے په ذکرد پنځه امورو سره۔ ﴿وَاٰمَنْتُمْ بِرُسُلِيْ﴾ ټول رسولان بغیرد تفریق نه منل اودَ هغوی تصدیق کول ﴿وَعَزَّرْتُمُوْهُمْ﴾ دا لفظ چه دَ نصرة سره یوځائے ذکر شی لکه سورة اعراف ۱۵۷ کښ نوهلته دَ دواړو فرق ملحوظ وی اوکله چه جدا ذکرشی نودَ یو بل په معنیٰ سره وی یعنی نصرت اومدافعت کول دَ دین دَ هغه نه دَ شبهاتودَ خلقواودَ دشمنانواودا اشاره ده دعوت اوجهادکولوته ﴿وَاَقْرَضْتُمُ اللّٰهَ﴾ دَ زکوٰة نه روستو دَ قرض نه مراد انفاق فی سبیل اللّٰه دے ځکه چه دَ دعوت اوجهاد سره دَ انفاق ډیرضرورت دے۔

[۱۳] په دیکښ ذکرد پنځه عذابونو دُنیویه دے په سبب دَ لوظ ماتولو سره ﴿قَاسِيَةً﴾ چه په هغوی کښ هیڅ وعظ او تخویف اوبشارت اثرنه کوی اوحسنة ته سیئة اوسیئة ته حسنة وائی﴿يُحَرِّفُوْنَ الْكَلِمَ﴾ دا اثر دَ قسوة قلب دے دَ دے وجے نه بغیرد عطف نه ئے ذکرکړو اومراد دَ دے نه تحریف معنوی دے یعنی

يُحَرِّفُوْنَ الْكَلِمَ عَنْ مَّوَاضِعِهٖ ۙ وَنَسُوْا حَظًّا مِّمَّا ذُكِّرُوْا بِهٖ ۚ وَلَا تَزَالُ تَطَّلِعُ عَلٰى خَآئِنَةٍ مِّنْهُمْ
اِلَّا قَلِيْلًا مِّنْهُمْ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاصْفَحْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ ۝١٣ وَمِنَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّا نَصٰرٰٓى
اَخَذْنَا مِيْثَاقَهُمْ فَنَسُوْا حَظًّا مِّمَّا ذُكِّرُوْا بِهٖ ۠ فَاَغْرَيْنَا بَيْنَهُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَآءَ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ ؕ
وَسَوْفَ يُنَبِّئُهُمُ اللّٰهُ بِمَا كَانُوْا يَصْنَعُوْنَ ۝١٤ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ قَدْ جَآءَكُمْ رَسُوْلُنَا يُبَيِّنُ لَكُمْ كَثِيْرًا مِّمَّا

بدلوی کلمے دَ اللّٰه تعالیٰ دَ (مناسب) ځایونونه اوهیره کړه دوی حصه لویه دَ هغے نه چه بیان شویوو دَ هغے اوهمیشه به ته خبریږے په خیانت (نقصان) دَ دوینه مګر لږدَ دوینه پس معافی کوه دَ دوینه اومخ واړوه (دَ ملامته کولودَ دوینه) یقیناً اللّٰه تعالیٰ خوښوی احسان کؤونکی (۱۳) اودَ هغه کسانونه چه دوی وائی بیشکه مونږ نصاریٰ یو، واخسته مونږپخه وعده دَ هغوی نه پس هیره کړه دوی یو برخه دَ هغے نه چه بیان کړے شویده دویته پس راپورته کړه مونږ په مینځ دَ دوی کښ دُشمنی (په ظاهرکښ) اوکینه (په زړه کښ) تر ورځ دَ قیامت پورے او زردے خبربه ورکړی دویته اللّٰه تعالیٰ په هغه کارونو چه دوی ئے کوی (۱٤) اے کتاب والو: یقیناً راغلے دے تاسوته رسول ځمونږ(ښکاره) بیانوی تاسوته ډیرے(مسئلے) دَ هغے نه

داسے تاویلونه کوی چه په هغے سره شرك،کفر او بدعات اوګناهونه ثابتوی داسے په سورة بقره ۷۵ کښ هم راغلی دی ﴿عَنْ مَّوَاضِعِهٖ﴾ مراد دَ دے نه معانی مناسبه(حقیقیه) دی نو تحریف معنوی او تفسیر په رائے مذموم سره مراد دے﴿وَنَسُوْا حَظًّا﴾ دَتورات او انجیل هغه حصه چه په هغے کښ توحید اوذکرد رسالت دَ اخری رسول وؤ هغه دوی داسے پریخودل لکه چه نسیا منسیا وی اګر چه بعضے حصه منی نو مصداق دی دَ دے قول (أفتؤمنون ببعض الکتاب وتکفرون ببعض) یا دا چه دَ تحریف دَ وجے نه دَ دوی قوت حافظه خرابه شوه نودَ کتاب اللّٰه اودَ دین الٰهی ډیره حصه ترینه هیره شوه ﴿فَاعْفُ عَنْهُمْ﴾ دا ضمیر راجع دے قلیلا (مؤمنانو) ته یا راجع دے ناقضینو دَ عهد ته اومراد دَ عفونه عفوده دَ هغه جرم نه چه ستا په حق کښ ئے کړے دے یعنی دَ هغے بدله ترینه مه اخله لکه چه نبی ﷺ سحرکوؤنکی په هغه باندے او زهر ورکوؤنکی ښځه معاف کړی وو ﴿وَاصْفَحْ﴾ مراد دَ دے نه سره دَ عفونه مخ ګرځول دی دَ هغوی دَ ملامته کولونه۔

[۱٤] په دے کښ ذکردَ دویمے نمونے دَ بے لوظئی دے دَ هغوی بے لوظئ ئے ذکرکړه اویوعذاب دُنیوی ئے ذکرکړے دے اودا ذکردے دَ حال دَنصاریٰ روستودَ حال دَ یهودیانونه ﴿قَالُوْٓا اِنَّا نَصٰرٰٓى﴾ په قالواکښ اشاره ده چه نصاریٰ نوم دے خلقو ځان دپاره پخپله ایښودلے وؤپه دے دعویٰ سره چه مونږ دَعیسیٰ علیه السلام نصرت کوؤنکی یو، دا نوم دَ دوی دَ طرف دَ اللّٰه تعالیٰ نه، نه دے خو مراد په دے هغه نصاریٰ دی چه بے لوظی ئے کړے ده ﴿فَنَسُوْا حَظًّا﴾ دلته نقض عهد ئے په طریقه دَ نسیان ذکر کړےځکه چه دَ دوی بے لوظی دَ اول وخت نه دَ یهودیانوپشان ښکاره نه وه بلکه دَ جهل دَ وجے نه وه اوبے لوظی دَ یهودو سرهٔ دَعلم نه ده او﴿حَظًّا مِّمَّا ذُكِّرُوْا﴾ کښ مراد مسئله دَ توحید ده ﴿فَاَغْرَيْنَا بَيْنَهُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَآءَ﴾ اغراء ماخوذ دے دَغِراء نه سریش اوجولے ته وئیلے شی یعنی دُشمنی په دوی کښ داسے پیداشوه چه په یوبل پورے دَبغض وحسد دَ وجے اونختل یا هغه دُشمنی په دوی پورے اونختله، اشاره ده چه په دوی کښ فرقه بازی

كُنْتُمْ تُخْفُوْنَ مِنَ الْكِتٰبِ وَيَعْفُوْا عَنْ كَثِيْرٍ ۬ قَدْ جَآءَكُمْ مِّنَ اللّٰهِ نُوْرٌ وَّكِتٰبٌ مُّبِيْنٌ ﴿١٥﴾ يَّهْدِيْ
بِهِ اللّٰهُ مَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَهٗ سُبُلَ السَّلٰمِ وَيُخْرِجُهُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ بِاِذْنِهٖ وَ
يَهْدِيْهِمْ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿١٦﴾ لَقَدْ كَفَرَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْمَسِيْحُ ابْنُ مَرْيَمَ ؕ قُلْ فَمَنْ
يَّمْلِكُ مِنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا اِنْ اَرَادَ اَنْ يُّهْلِكَ الْمَسِيْحَ ابْنَ مَرْيَمَ وَاُمَّهٗ وَمَنْ فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا ؕ وَلِلّٰهِ

چه تاسو پټولے دَ کتاب دَ اللّٰه تعالیٰ نه اومخ اړوی دَ ډیرونه یقیناً راغلے وه تاسوته دَ طرف دَ اللّٰه تعالیٰ نه رنړا او کتاب واضح بیان والا (۱۵) خودنه کوی په دے سره اللّٰه تعالیٰ هغه چاته چه تابعداری کوی دَ رضا دَ اللّٰه تعالیٰ دَ لارو دَ سلامتیا او اوباسی دوی لره دَ تیارونه رنړاته په حکم خپل سره او رسوی دوی لره لارے نیغے ته(۱۶) یقیناً کفر کړے دے هغه کسانوچه وائی یقیناً اللّٰه تعالیٰ (واکدار) هغه خو مسیح ځوئے دَ مریم دے اُوایه پس څوك اختیار لری په مقابله دَ اللّٰه کښ دَځه خیزکه اوغواړی اللّٰه تعالیٰ چه مړ کړی مسیح ځوئے دَ مریم اومورد هغه اوهغه څوك چه په ځمکه کښ دی ټول اوخاص اللّٰه تعالیٰ لره

دَیهودیانونه ډیره پیدا شوه اول په دوی کښ یعقوبیه نسطوریه اوملکانیه پیدا شول په باره دَ عیسیٰ علیه السلام کښ اوبیا نورے ډلے دَ دوی نه پیداشوے اوډیراختلاف اوجنګ جګړے په دوی کښ پیدا شوے۔ ﴿اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ﴾ مراد دَ دے نه وخت دَ نزول دَ عیسیٰ علیه السلام دے اوهغه زمانه قریب ده ورځ دَقیامت ته۔

[۱۵] دَ دے ایت نه دَ دے حصے دویم باب دے تر ۴۱ پورے په دے کښ ذکردَ احوال تفصیلیه دَکتابیانو دے چه نقض دَ عهد ئے کړے وؤپه دے کښ دوه خطابات دَ اهل کتابواویو خطاب دَ ایمان والوذکردے۔ په دے(۱۵) کښ خطاب دے اهل کتابوته دَپاره دَ اطاعت دَ اخری رسول اودَ قرآن په ذکردَ عظمت شان دَ رسول اودَ قرآن ﴿يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ﴾ کتاب په معنیٰ دَ جنس کتاب دے که تورات وی اوکه انجیل وی نو شامل دے یهود او نصاریٰ دواړوته ﴿وَيَعْفُوْا عَنْ كَثِيْرٍ﴾ دَعفونه مراد پریخودل اواعراض دے دَ بیان دَ هغے نه اومراد دَ دے نه هغه مسائل دی چه دَ اخری دین سره ئے تعلق نیشته بلکه په دے دین کښ هغه منسوخ دی او دواړه طرف ته خوکثرت نشی کیدلے نومراد دَ دینه کثرت فی نفسه دے﴿قَدْ جَآءَكُمْ مِّنَ اللّٰهِ﴾ دا ترغیب دے قرآن ته په ذکردَ دوه صفتونودَ هغه اول نوریعنی قرآن نوردے چه په سبب دَ دهٔ سره حق واضح کیږی اوتیارے دَ جهل زائله کیږی ﴿وَكِتٰبٌ مُّبِيْنٌ﴾ دا عطف دَ صفت دے په صفت باندے اوموصوف یو دے (مبین) لازمی او متعدی دواړه معنے لری پخپله پکښ احکام ښکاره دی یا ښکاره کوؤنکے دے۔

[۱۶] په دے کښ درے فائدے دَ اخری رسول دَ رالیګلویا دَ قرآن دپاره ئے ذکرکړی دی ﴿يَّهْدِيْ بِهٖ﴾ دا اوله فائده ده او ضمیردَ بهٖ قرآن یا رسول ته راجع دے هریوسبب دَ هدایت الٰهیه دے ﴿مَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَهٗ﴾ دا قید ئے دَ دے وجے نه ذکر کړے دے چه مراد دَ یهدی نه ایصال الی المطلوب او توفیق دے ﴿سُبُلَ السَّلٰمِ﴾ سلام نوم د اللّٰه تعالیٰ دے یا مراد دَ دے نه سلامتیا دَ عذاب دَجهنم نه ده اوسلامتیا ده دَ ټولوآفاتونه اوهغه جنت دے، دویمه فائده ﴿يُخْرِجُهُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ﴾ مراد دَ دے نه ظلمات اونورګناهونه معنویه دی یعنی تیارے دَ شرك اوکفراودَ بدعاتو رسوماتو او نورګناهونونه دَ قرآن او رسول په وجے سره نجات حاصلیږی۔ ﴿بِاِذْنِهٖ﴾ اشاره ده چه اخراج دَ ظلماتونه په معنیٰ دَ توفیق سره دے اودَ هغه دپاره اذن دَ اللّٰه تعالیٰ شرط دے،

مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ؕ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿١٧﴾ وَقَالَتِ
الْيَهُوْدُ وَالنَّصٰرٰى نَحْنُ اَبْنٰٓؤُا اللّٰهِ وَاَحِبَّآؤُهٗ ؕ قُلْ فَلِمَ يُعَذِّبُكُمْ بِذُنُوْبِكُمْ ؕ بَلْ اَنْتُمْ بَشَرٌ
مِّمَّنْ خَلَقَ ؕ يَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۫
وَاِلَيْهِ الْمَصِيْرُ ﴿١٨﴾ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ قَدْ جَآءَكُمْ رَسُوْلُنَا يُبَيِّنُ لَكُمْ عَلٰى فَتْرَةٍ مِّنَ الرُّسُلِ اَنْ تَقُوْلُوْا

بادشاهی دَ اسمانونو اودَ ځمکے ده اودَ مینځ دَ دے دواړو پیدا کوی څه چه اوغواړی او الله تعالیٰ په هرڅیز باندے قدرت لری (۱۷) او وائی یهود اونصاریٰ مونږ نازولی دَ الله تعالیٰ یو او دوستان دَ الله تعالیٰ یو اُوایه پس ولے عذاب درکوی تاسوته په ګناهونو بلکه تاسو بندګان یئ دَ هغه چانه چه پیداکړی دی الله تعالیٰ بخنه کوی هغه چاله چه اوغواړی او عذاب ورکوی چاته چه اوغواړی، اوخاص الله تعالیٰ لره بادشاهی دَ آسمانونو اودَ ځمکے ده اودَ مینځ دَ دے دواړو اوخاص هغه ته دی ګرځیدل (۱۸) اے کتاب والو: یقیناً راغلے دے تاسوته رسول ځمونږ بیان کوی تاسو په وخت دَ بندیدلودَ سلسلے دَ رسولانو کښ چه اونه وایئ

یهدی سره ئیے دا ذکر نه کړو ځکه چه هلته ئیے بِهٖ دَ سببیت ذکر کړے دے۔

[۱۷] دا متعلق دے دَ (يُبَيِّنُ لَكُمْ كَثِيْرًا اه) سره او رد دے په یوډله دَ اهل کتابو چه نصاریٰ دی چه هغوی ته په انجیل کښ عبدیت دَ عیسیٰ علیه السلام بیان شوے وؤ اوهغه دوی پټ کړو اوالوهیت دَ عیسیٰ ئیے خپل دین اوګرځوؤ نو قرآن هغه خبره ښکاره کړه اوحکم ئیے اوکړو چه دا قول او عقیده خو کفر دے چه څوك عیسیٰ علیه السلام ته الٰه وائي دا قول دَ یعقوبیه ډلے وؤدَ نصاریٰ نه دَ دوی مقصد دا وؤچه الله تعالیٰ په عیسیٰ علیه السلام کښ حلول کړے دے ﴿قُلْ فَمَنْ يَّمْلِكُ﴾ نوپه څلورطریقوسره دَ دغه عقیدے تردیدکوی اوله طریقه دا ده چه دا عالم سره دَعیسیٰ علیه السلام نه فناکیدونکے دے اوځوك دَفناکیدلونه بچ کوؤنکے نیشته نوعیسیٰ علیه السلام هم فناکیدونکے دے اودَ فنانه ځان اونورخلق هم نشی بچ کولے نوځنګه مدبر او الٰه کیدے شی، یملك په معنیٰ دَ یقدراویستطیع یا یمنع سره دے ﴿مِنَ اللّٰهِ﴾ نه مراد من عذاب الله یا من امرالله ﴿وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ﴾ دا دویمه طریقه ده چه نظام چلوؤنکے دَ ټول عالم الله تعالیٰ دے اوعیسیٰ علیه السلام خوپه مابینهماکښ داخل دے نوهغه رعیت اومملوك دے الٰه نه دے ﴿يَخْلُقُ﴾ دا دریمه طریقه ده یعنی عیسیٰ علیه السلام خلق په معنیٰ دَ ایجاد سره نشی کولے هغه صرف صورت جوړ وؤ اوصرف مرغئے ئیے جوړولے هرڅیزمایشاء ئیے نشوجوړولے ﴿وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ﴾ داخلور مه طریقه ده چه الله تعالیٰ خو قدرت مطلقه لری چه بغیر دَ اصل نه خلق کولے شی لکه اسمانونه او زمکه شوه۔

[۱۸] دابل رد دے په عقیده دَ اهل کتابو(چه یهود اونصاریٰ دی) اواشاره ده لکه چه دوی افراط کړے وؤپه باره دَ عیسیٰ اوعزیرعلیهما السلام کښ نوداسے دوی افراط کوؤ دَخپل ځانونوباره کښ دپاره دَ تزکیے اوغوره والی ښکاره کولوپه نورو خلقواودپاره دَ دے چه څوك په دوی باندے هیڅ قسم طعن اواعتراض اونکړی نودوی وئیل ﴿نَحْنُ اَبْنٰٓؤُا اللّٰهِ وَاَحِبَّآؤُهٗ﴾ په دے سره دوی خپل عصمت ثابتولو، په دے قول کښ ډیرتوجیهات دی اول دا چه دا دعویٰ دَ دوی په تشبیه باندے بنا ده یعنی الله تعالیٰ په مونږ باندے

مَا جَآءَنَا مِنْ بَشِيْرٍ وَّلَا نَذِيْرٍ ۚ فَقَدْ جَآءَكُمْ بَشِيْرٌ وَّنَذِيْرٌ ۗ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿١٩﴾ وَاِذْ
قَالَ مُوْسٰى لِقَوْمِهٖ يٰقَوْمِ اذْكُرُوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ اِذْ جَعَلَ فِيْكُمْ اَنْۢبِيَآءَ وَجَعَلَكُمْ مُّلُوْكًا ۖ

چه نه ؤو راغلے مونږته څوک زیږے ورکؤونکے اونه ویره ورکؤونکے پس یقیناً راغے تاسوته زیږے درکؤونکے او ویره درکؤونکے۔ اواللّٰه تعالیٰ په هرشیز باندے قدرت لرونکے دے (۱۹) اوکوم وخت چه اُویل موسیٰ(علیه السلام) قوم خپل ته اے قومه ځما: یادکړئ نعمت دَ اللّٰه تعالیٰ په تاسو باندے کله چه پیدائے کړو په تاسو کښ پیغمبران اوجوړئے کړئے تاسو بادشاهان

پشان دَپلار شفقت کوؤنکے دے اومونږدَ هغه خواص اومقربین یوپشان دَ ځامنوپلارته اواحبائه دَهغے تفسیر دے،دویمه توجیه، الوسی وئیلی دی چه دَتورات اوانجیل په اصطلاح کښ ابن تابعداراومقرب اودوست ته وئیلے کیدلواو الوسی په روح المعانی کښ دَ هغوی نه ډیرعبارتونه په دے طریقے سره نقل کړی دی ﴿قُلْ فَلِمَ يُعَذِّبُكُمْ بِذُنُوْبِكُمْ﴾ په دے قول سره دَ دوی په ځلورطریقوسره رد دے اوله داده چه پلارخپل خوک ځوی او دوست خپل محبوب دوست ته خوعذاب نه ورکوی اوتاسو له خو اللّٰه تعالیٰ ډیرعذابونه درکړی دی په مسخ سره، په غرونو پورته کولوسره، په تذلیل اوپریشان کولو سره اوپه مقتضیٰ دَ قول دَ دوی سره چه (لَنْ تَمَسَّنَاالنَّارُ اِلَّا اَيَّاماً مَّعْدُوْدَةً) سره اويُعَذِّبُ مضارع په معنیٰ دَ ماضی ده ﴿بَلْ اَنْتُمْ بَشَرٌ﴾ دادویمه طریقه ده دَ رد دَ قول دَ هغوی یعنی ابنیت دَ اللّٰه تعالیٰ خووتل دی دَ بشریت نه اوتاسوخوبشریئ ﴿وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ﴾ دا دریمه طریقه دَ رد ده یعنی مملوك یئ دَ اللّٰه تعالیٰ او راګیریئ په اسمانونواو زمکو کښ ﴿وَاِلَيْهِ الْمَصِيْرُ﴾ داځلورمه طریقه دَ رد ده یعنی په اخرت کښ دَهغه دَملك اومشیت نه نشی بهرکیدلے بلکه دَجزا اوسزا دپاره هغه ته ورګرځیدل دی۔

[۱۹] دا تکراردَ خطاب دے چه ارسال دَ دے رسول دپاره دَ دفع کولودَ عذر دَ خلقو دے اوپدے سره دفع کول دَ یو وهم دی هغه دا دے چه دوی وئیل چه زمونږ په کتابونو کښ متشابهات دی دَ هغے دَ وجے نه عیسیٰ(علیه السلام) ته اله وایو اوځان ته ابناء اللّٰه وایو، حاصل دَ جواب دا دے چه رسول تاسو ته رالیږلے شوے دے هغه محکمات پیش کړی دی تاسوته اوبیان کړی ئے دی او طریقه دَ عمل په متشابهاتو باندے درخودلے ده نواوس هیڅ عذرمه کوئے ﴿يُبَيِّنُ لَكُمْ﴾ مفعول دَ دے حذف دے دَ دے وجے نه چه مخکے تیر شویدے (كثيرا مما كنتم تخفونه)یا الشرائع والاحکام ﴿عَلٰى فَتْرَةٍ مِّنَ الرُّسُلِ﴾ دَ فتورنه ماخوذ دے سست کیدل او سکون او انقطاع ته وئیلے شی یعنی په داسے زمانه کښ چه شرائع دَ مخکنوانبیاؤباندے عمل کول سست شوی وؤ اومنقطع شوی وؤدَ هغے اثارهم ختم شوی وؤ ځکه چه دَ انبیاؤسلسله قطع شویوه اوټول عالم په هدایت کښ اخری رسول ته محتاج وؤنوداسے وخت کښ اللّٰه تعالیٰ دے را اولیګلو اود عیسیٰ(علیه السلام) اودَ محمد(صلی الله علیه وسلم) په مینځ کښ دَ مدت اختلاف دے یو قول داچه شپږسوه کلونه دی دویم پنځه سوه اوشپیته کاله﴿اَنْ تَقُوْلُوْا﴾کراهیة ان تقولوا یا لئلاتقولوا اول قول دَ بصریانو اودویم دَکوفیانودے﴿فَقَدْ جَآءَكُمْ﴾ دَ دے نه مخکے عبارت پټ دے یعنی (فلا تعتذروا بهذا العذر) دغه بهانه مه کوئے۔

وَّاٰتٰىكُمْ مَّا لَمْ يُؤْتِ اَحَدًا مِّنَ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٢٠﴾ يٰقَوْمِ ادْخُلُوا الْاَرْضَ الْمُقَدَّسَةَ الَّتِيْ كَتَبَ اللّٰهُ لَكُمْ وَلَا تَرْتَدُّوْا عَلٰٓى اَدْبَارِكُمْ فَتَنْقَلِبُوْا خٰسِرِيْنَ ﴿٢١﴾ قَالُوْا يٰمُوْسٰٓى اِنَّ فِيْهَا قَوْمًا جَبَّارِيْنَ ۖ وَاِنَّا لَنْ نَّدْخُلَهَا

اودکړی دی تاسوته هغه نعمتونه چه نه ئے دی ورکړی هیڅاته دَ خلقونه (۲۰) اے قومه ځما: داخل شئے ځمکے پاکے ته هغه چه فرض کړے دے اللّٰه تعالیٰ په تاسوباندے جهاد دَ هغے اومه واپس کیږئے په شاګانو خپلوپس شئے به تاوان والا (۲۱) اُوئیل دوی: اے موسیٰ(علیه السلام): یقیناً په دے کښ قوم زور آور دے اویقیناً مونږ چرے نه داخلیږو هغے ته

[۲۰] ربط دَ دے دَ مخکے مضمون سره دا دے چه مخکے دَ دوی ئے بعضے خبائث ذکر کړل چه هغه دَ افراط سره تعلق لری نو اوس دَ دوی تفریط ذکرکوی چه هغه (۲۲او ۲٤) کښ ذکردے ﴿وَاِذْقَالَ مُوْسٰى﴾ دا عطف دَ یومضمون دے په بل مضمون باندے یعنی مخکښ چه تا دَ دوی افراط ذکرکړونودارنګ ذکرکړه دوی ته دا قصه ﴿اِذْجَعَلَ فِيْكُمْ اَنْۢبِيَآءَ﴾ دا تفصیل دَ نعمت دے په ذکردَ درے امورو سره اول په کثرت سره انبیاء رالیږل په بنی اسرائیلو کښ دَ یعقوب(علیه السلام) نه ترعیسیٰ(علیه السلام) پورے اودویم ﴿وَجَعَلَكُمْ مُّلُوْكًا﴾ دَ دے نه عامه معنیٰ مراد ده یعنی ازاد دَ غلامئی دَ فرعونیانونه اوخاوندان دَ خادمانواوکورونو اوښځواودانعمت په ټولوکښ موجود وؤځکه ئے جعلکم اُوئیل او دریم ﴿وَاٰتٰىكُمْ مَّا لَمْ يُؤْتِ﴾ دانعمتونه معجزانه ظاهری اوباطنی دواړه دی اومراد اهلاك دَ دُشمن اوفلق البحر، اوانزال دَ من وسلویٰ اواوبه راویستل دَګټے نه اوسورے کول په غمام سره ﴿مِنَ الْعٰلَمِيْنَ﴾ مراد دَ دے نه هغه خلق دی چه دَ بنی اسرائیلوپه وخت کښ یا دَ هغوی نه مخکښ وؤ۔

[۲۱] مخکښ ایت کښ تمهید وؤ اوپدے ایت کښ دَشکرنعمت طریقه ذکرکوی ﴿اُدْخُلُوا﴾ دا دخول په طریقه دَ جهاد سره دے ﴿الْاَرْضَ الْمُقَدَّسَةَ﴾ په معنیٰ دَ مبارکه اوپاکه یعنی برکات دُنیویه اواُخرویه پکښ ډیردی اوقتاده وئیلی دی چه دا دَشام زمکه ده، اوپه هغے کښ بیت المقدس اودمشق فلسطین اوبعضے حصه دَ اردن داخله ده ﴿الَّتِيْ كَتَبَ اللّٰهُ لَكُمْ﴾ په معنیٰ دَ تقدیرسره په لوح محفوظ کښ یا په معنیٰ دَ وعدے دَ اللّٰه تعالیٰ په ژبه دَ یعقوب(علیه السلام) یا په معنیٰ دَ فرض یعنی فرض کړے دے اللّٰه تعالیٰ په تاسوجهاد دَ هغے ابن کثیرلیکلی دی چه دا زمکه مقدسه مسکن وؤ دَیعقوب(علیه السلام) اودَ اولاد دَ هغه بیا په امردَ یوسف(علیه السلام) دوی ټول مصرته نقل شول نوبیا دَ موسیٰ(علیه السلام) زمانه کښ چه دوی دَ مصرنه هجرت اوکړونو دوی ته دے زمکے ته دَ داخیلدلوحکم اوشواودَ حالات معلومولو دپاره ئے دولس نقیبان اولیږل نوهغه زمکه باندے عمالقه جبابره قوم آباد شوے وؤ نودوی ته حکم اوشو چه دَ هغوی نه دازمکه مقدسه په ذریعه دَ قتال سره آزاده کړئے۔

حَتّٰى يَخْرُجُوْا مِنْهَا ۚ فَاِنْ يَّخْرُجُوْا مِنْهَا فَاِنَّا دٰخِلُوْنَ ﴿٢٢﴾ قَالَ رَجُلٰنِ مِنَ الَّذِيْنَ يَخَافُوْنَ اَنْعَمَ
اللّٰهُ عَلَيْهِمَا ادْخُلُوْا عَلَيْهِمُ الْبَابَ ۚ فَاِذَا دَخَلْتُمُوْهُ فَاِنَّكُمْ غٰلِبُوْنَ ۚ وَعَلَى اللّٰهِ فَتَوَكَّلُوْٓا اِنْ كُنْتُمْ
مُّؤْمِنِيْنَ ﴿٢٣﴾ قَالُوْا يٰمُوْسٰٓى اِنَّا لَنْ نَّدْخُلَهَآ اَبَدًا مَّا دَامُوْا فِيْهَا فَاذْهَبْ اَنْتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلَآ اِنَّا
هٰهُنَا قٰعِدُوْنَ ﴿٢٤﴾ قَالَ رَبِّ اِنِّيْ لَآ اَمْلِكُ اِلَّا نَفْسِيْ وَاَخِيْ فَافْرُقْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ الْقَوْمِ الْفٰسِقِيْنَ ﴿٢٥﴾

تردے چه اوځی دوی دَ هغے نه، پس که اووتل دوی دَ هغے نه پس یقیناً مونږ به داخل شو (۲۲) اُوئیل دوه نارینو دَ هغه کسانونه چه یره ئے کوله انعام کړے ؤوالله تعالیٰ په هغوی باندے داخل شئ په دوی باندے دروازے ته پس کله چه داخل شئ هغے ته پس یقیناً تاسوغالب یئ اوخاص په الله تعالیٰ باندے توکل کوئے که تاسو یئ مؤمنان (۲۳) اُوئیل دوی اے موسیٰ(علیه السلام): یقیناً مونږ چرے نه داخلیږودے ځمکے ته هرگزخوپورے چه دوی په هغے کښ وی پس لاړشه ته او رب ستا پس جنګ اوکړئے دواړه یقیناً مونږیه دلته کښ ناست یو (۲۴) اُوئیل موسیٰ(علیه السلام): اے ربه ځما یقیناً ځه وس نه لرم مګرپخپل ځان اوپه رورخپل پس فیصله اوکړه په مینځ ځمونږ اوپه مینځ دَ قوم نافرمان کښ(۲۵)

[۲۲] په دے کښ دَ هغوی بے لوظی اوخباثت اوبزدلی ذکرکوی ﴿قَالُوْا﴾ دَ نقباؤنه لس کسانوداسے اوئیل اونوروبنی اسرائیلودَ هغوی په تقلیدکښ داسے اُوئیل نودوی دَنبی دَ قول په مقابله کښ قول دَ بل چاواغستلو ﴿جَبَّارِيْنَ﴾ جبارهغه چاته وئیلے شی چه خلق په زور سره خپل مقصد ته راړوی نودا دَ اجبار په معنیٰ دَاکراه سره نه ماخوذ دے، یا دَ جبرنه ماخوذ دے په معنیٰ دَ اصلاح سره لیکن استعمالیږی په باره دَ هغه چاکښ چه ځان ته نفع راکاږی که په حقه سره وی یا په باطله سره زجاج وئیلی دی چه جبارد انسانانوپه باره کښ سرکش ته وئیلے شی ﴿وَاِنَّا لَنْ نَّدْخُلَهَا﴾ اول ئے سبب ذکرکړو اودا ئے مسبب دے یعنی عدم دخول ئے بنا کړوپه عذربانديے معلومه شوه چه دَ قتال نه ئے صریح انکار نه دے کړے۔

[۲۳] ﴿رَجُلٰنِ﴾ دوی مشهور دی په یوشع اوپه کالب سره ﴿يَخَافُوْنَ﴾ دَ هغه کسانود جماعت نه وؤچه دَ جبابره نه ئے یره کوله، یا هغه کسان چه ویره کوی دَ مخالفت کولودَ امردَ الله تعالیٰ نه ﴿اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمَا﴾ یعنی دوی دَ نورو ملګرونه په دے وصف سره جدا وؤ چه الله تعالیٰ په دوی باندے خاص انعام کړے وؤهغه توفیق اوصبراویقین وؤ، بعضو وئیلی دی چه مراد دَ دے نه نبوت دے چه دوی ته روستودَ موسیٰ علیه السلام نه ورکړے شوے وؤ ﴿الْبَابَ﴾ یعنی دَ دوی دَښار یوه دروازه وه نوهغے ته په دا خلیدلوسره په دوی باندے رعب راځی ﴿وَعَلَى اللّٰهِ فَتَوَكَّلُوْٓا﴾ دا ذکردے دَ سبب دَ حصول دَ غلبے یعنی ایمان سرهٔ دَ توکل کولونه خاص په الله تعالیٰ باندے۔

[۲۴] دا ذکردَ خباثت دَ بنی اسرائیلودے چه په هغے کښ دَ انکارسره بے عزتی دَ الله تعالیٰ اودَ موسیٰ علیه السلام هم دوی اوکړله اوبنی اسرائیلو دلته دَ هغه دوه صالحینو قول باندے عمل پریخودلو اوپه کثرت دَ بل طرف باندے ئے اعتبار اوکړلو ﴿فَاذْهَبْ اَنْتَ وَرَبُّكَ﴾ دا قول دَ دوی په طریقه دَ بے پروا هئی اودَ توهین دَ رب دے یا دا قول دے دَ مشبّهو (قرطبی) نو دوی په سبب دَ دے کافرشول، امام بخاری اوامام مسلم حدیث دَ مقداد بن عمرو رضی الله عنه راوړے دے چه نبی ﷺ دَ بدرپه ورځ صحابوته ترغیب دَقتال فے سبیل الله

قَالَ فَاِنَّهَا مُحَرَّمَةٌ عَلَيْهِمْ اَرْبَعِيْنَ سَنَةً ۚ يَتِيْهُوْنَ فِى الْاَرْضِ ۗ فَلَا تَاْسَ عَلَى الْقَوْمِ
الْفٰسِقِيْنَ ﴿٢٦﴾ وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَاَ ابْنَىْ اٰدَمَ بِالْحَقِّ ۘ اِذْ قَرَّبَا قُرْبَانًا فَتُقُبِّلَ مِنْ اَحَدِهِمَا وَلَمْ يُتَقَبَّلْ
مِنَ الْاٰخَرِ ۗ قَالَ لَاَقْتُلَنَّكَ ۗ قَالَ اِنَّمَا يَتَقَبَّلُ اللّٰهُ مِنَ الْمُتَّقِيْنَ ﴿٢٧﴾ لَئِنْ بَسَطْتَّ اِلَىَّ يَدَكَ

اوفرمائیل اللّٰه تعالیٰ پس یقیناً دا ځمکه بنده ده په دوی باندے ځلویښت کاله حیران به ګرځی په ځمکه کښ۔ پس مه خفه کیږه په قوم نافرمان باندے (۲۶) اوبیان کړه په دوی باندے خبرد دۀ ځامنودَ آدم(علیه السلام) په رشتیا کوم وخت چه قربانی اوکړه دوی قربانی جداجدا پس قبول کړے شوه د یونه (چه هابیل ۀو) اوقبوله نه شوه د بل نه (قابیل ۀو) اوئیل دهٔ خامخا به قتل کوم تالره، اویل دهٔ (هابیل) یقیناً قبلوی اللّٰه تعالیٰ (عملونه) د اخلاص کۀونکونه (۲۷) که تهٔ اوګدکړے ماته لاس خپل

ورکړونومقداد اوئیل چه مونږتاته هغه خبره نه کوۀ کومه چه بنی اسرائیلوموسیٰ(علیه السلام) ته کړے وه چه (اذهب انت وربك فقاتلا انا ههنا قاعدون) لیکن مونږ وایو چه ته ځه لارشه چه کوم خوانځے اومونږ درسره ملګری یو۔

[۲۵] دا دُعاء شردَ موسیٰ(علیه السلام) ده په دغه قوم باندے اودا بد اثردے د ترك د فرض شوی جهاد ﴿لَآ اَمْلِكُ اِلَّا نَفْسِىْ﴾ (سوال) ملکیت رقبی خودَانسان په خپل ځان باندے هم نیشته، ځان خرڅولے نشی ځان قتل کولے نشی؟ (جواب) مراد د دے نه تصرف ظاهری دے ﴿وَاَخِىْ﴾ (سوال) انسان خو په رورکښ تصرف نشی کولے ؟ (جواب) مراد د دے نه ملك د اطاعت کولو دے ﴿فَافْرُقْ﴾ مراد د دے نه جدا والے دے په اخرت کښ۔

[۲۶] دا اجابت د دُعا د موسیٰ(علیه السلام) دے اوذکرد عذاب دُنیوی دے په هغه قوم باندے﴿مُحَرَّمَةٌ﴾ اکثرمفسرینو وئیلی دی چه دا تحریم منعی ۀو (یعنی په معنیٰ لغوی سره) اللّٰه تعالیٰ دوی لره منع کړل دوی قدرت نه لرلود هغے نه د وتلواللّٰه تعالیٰ داسے نا اشنا اسباب پیداکړل چه دوی د هغے نه بهرنشو وتلے۔ ﴿اَرْبَعِيْنَ سَنَةً﴾ په عامل د اربعین کښ دوه قوله دی اول دا چه متعلق دے په محرمة پورے یعنی تحریم موقت وۀنود ځلویښت کاله نه روستودوی په زمانه د یوشع(علیه السلام) کښ اللّٰه تعالیٰ غالب کړل یا متعلق دے په یتیهون پورے بیا تحریم ابدی مراد شوخو د دوی عمرونه اللّٰه تعالیٰ ځلویښت کلونه سرهٔ د پریشانتیانه اوګرځول اوځلویښت کالو نه روستودغه بنی اسرائیل ختم شول اود دوی اولادباقی پاتے شول اوهغوی جهاد اوکړو دَجبابروسره په ملګرتیا د یوشع(علیه السلام) اوغالب شول ﴿يَتِيْهُوْنَ﴾ د تیه نه ماخوذ دے حیرانتیا اوپریشانئے ته وئیلے شی اودا عذاب وۀپه سبب د ترك د جهاد سره۔

[۲۷] د دے قصے ربط د مخکے سره په څو وجوهوسره دے اول داچه مخکے ترك د قتال دَکافرانوسبب د پریشانئے وۀنوپه دے واقعه کښ نا حق قتل کول د رورمۀمن سبب د بے عقلئی اود پریشانئی ګرځولے شویدے ﴿اِبْنَىْ اٰدَمَ﴾ صحیح قول دا دے چه دا د آدم(علیه السلام) اوحواء علیهما السلام صلبی ځامن ۀو اوځوك وائی چه دوی په بنی اسرائیلوکښ ۀو او د دوی نومونه هابیل اوقابیل وو﴿اِذْقَرَّبَا قُرْبَانًا﴾ ظاهرد قرآن دا دے چه سبب د قربانئی کولوامرد اللّٰه تعالیٰ وۀبل هیڅ سبب نه ۀو۔ اواشاره ده چه قربانی کول زورسنت

لِتَقْتُلَنِيْ مَآ اَنَا بِبَاسِطٍ يَّدِيَ اِلَيْكَ لِاَقْتُلَكَ ۚ اِنِّيْٓ اَخَافُ اللّٰهَ رَبَّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٢٨﴾ اِنِّيْٓ اُرِيْدُ اَنْ تَبُوْٓاَ بِاِثْمِيْ وَاِثْمِكَ فَتَكُوْنَ مِنْ اَصْحٰبِ النَّارِ ۚ وَذٰلِكَ جَزٰٓؤُا الظّٰلِمِيْنَ ﴿٢٩﴾ فَطَوَّعَتْ لَهٗ نَفْسُهٗ

دَ دے دپاره چه ماقتل کوئے نه یم ځه اوګدوونکے لاس خپل تاته دے دپاره چه قتل کړم تا، یقیناً ویریږم ځه دَ اللّٰه تعالیٰ نه چه پالونکے دَ خلقودے (۲۸) یقیناً ځه اراده لرم (چه دَګناه نه ځان بچ کړم) نوته به اخته شے په ګناه (دَ قتل) ځما اوپه (زور) ګناه خپل پس شے به ته دَ اوروالؤنه اودا(اور) سزا دَ ظالمانوده (۲۹) پس خائسته کړوهغه ته نفس دَ دهٔ

دے، قربان هرهغه څیزچه په هغے سره تقرب الی اللّٰه حاصلیږی، اوقربانی دَ هابیل ګډ ذبح کول وؤاودَ قابیل ځه ردی (بیکاره) دانے صدقه کښ ورکول وؤ﴿فَتُقُبِّلَ مِنْ اَحَدِهِمَا﴾ طریقه دَقبولیت په هغه وخت کښ داسے وه چه اوربه دَ آسمان نه نازل شونوچه کوم به ئیے اوسیزلوهغه به قبول وؤ او دیته اشاره شویده په سورة العمران ۱۸۳ کښ نو قبولیت اوشودَ قربانئ دَ هابیل اودَ قابیل قبوله نه شوه دَ عدم تقویٰ (اخلاص) دَ وجے نه دَ قابیل قربانی قبوله نه شوه ﴿قَالَ لَاَقْتُلَنَّكَ﴾ دا قول دَ حسد دَ وجے نه دے یعنی قبولیت دَ قربانئ دلیل شوپه فضیلت دَ هابیل باندے نودَ دے وجے نه قابیل حسد شروع کړودَ بعض اهل علم نه نقل دے چه اول ګناه دَ حسد په آسمانونوکښ ابلیس کړے دے دَ آدم علیه السلام سره او اول ګناه دَحسد په زمکه کښ قابیل کړے دے دَ خپل رور سره، بیا مرض دَ حسد دیر پیدا شوے دے په بنی اسرائیلو کښ اودے اُمت ته په دمه دمه منتقل شویدے داسے په حدیث کښ راغلی دی ﴿قَالَ اِنَّمَا يَتَقَبَّلُ اللّٰهُ مِنَ الْمُتَّقِيْنَ﴾ دا مختصرجواب دے تفصیل ئیے دا دے چه قبولیت خوپه تقویٰ باندے بنا دے اوپه تاکښ تقویٰ نه وه نودا نقصان ستا دَ نفس دَ طرف نه دے ځما خوپدے کښ هیڅ دخل نیشته۔

[۲۸] دا قول دَ هابیل دَ طرف نه دے، بسط دَ ید کنایه ده دَ ارادے بیکاره کولودَ قتل نه ﴿لِاَقْتُلَكَ﴾ اشاره ده چه ځه اراده ستادَ قتل نه کؤوم دائے نه دی وئیلی چه مدافعت به نه کؤوم مدافعت کول خو واجب دی او زمونږپه اُمت کښ دا حکم دے په وخت دَ فتنة کښ اودَ جنګونودَ مسلمانانوکښ قرطبی حدیث دَ ابوداؤد ذکرکړے دے دَسعد﷜ چه په وخت دَ فتنه دَ مسلمانانوکښ څوك ځماکورته داخل شی اولاس اوګدکړی ځما دَ قتل دَپاره (نوځه به کؤوم)؟ رسول اللّٰه ﷺ جواب ورکړو(کن کخیرابن ادم) اودا ایت ئیے اولوستلو﴿اِنِّيْٓ اَخَافُ اللّٰهَ رَبَّ الْعَالَمِيْنَ﴾ یعنی اراده دَ قتل دَ بل مسلمان مخالفت دے دَ حکم دَ اللّٰه تعالیٰ نه او دَ اللّٰه تعالیٰ نه خوف ضروری دے چه داسے کار اونشی دا د لیلونه دی چه هابیل بزدلی نه ده کړے اوخاموش هم ناست نه دے، بلکه خازن اونسفی وغیره ټولو لیکلی دی چه هابیل په طاقت کښ دَ قابیل نه زیات وؤ۔

[۲۹] دا قول دَ هابیل تخویف ورکول دی قابیل ته دَ قتل نا حق نه ﴿اِنِّيْٓ اُرِيْدُ اَنْ تَبُوْٓاَ﴾ (سوال) دا اراده کول چه فلانے شخص دِګناهګار شی اوجهنم ته دِ لاړشی جائزنه ده دے ته غش وئیلے شی او غش خو حرام دے ؟ (جواب) یعنی ځه خو ستا مدافعت حتی الوسع کووم اوستا دَ قتل اراده خونه لرم نو پداسے حال کښ چه تهٔ مالره قتل کړے نو ګناه به په تاباندے انبار شی نو تقدیردَ عبارت دا دے(اِنِّيْٓ اُرِيْدُ مُدَافَعَتَكَ

قَتْلَ اَخِيْهِ فَقَتَلَهٗ فَاَصْبَحَ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿٣٠﴾ فَبَعَثَ اللّٰهُ غُرَابًا يَّبْحَثُ فِى الْاَرْضِ لِيُرِيَهٗ
كَيْفَ يُوَارِىْ سَوْءَةَ اَخِيْهِ ؕ قَالَ يٰوَيْلَتٰٓى اَعَجَزْتُ اَنْ اَكُوْنَ مِثْلَ هٰذَا الْغُرَابِ فَاُوَارِىَ سَوْءَةَ
اَخِىْ ۚ فَاَصْبَحَ مِنَ النّٰدِمِيْنَ ﴿٣١﴾ مِنْ اَجْلِ ذٰلِكَ ۚۛ كَتَبْنَا عَلٰى بَنِىْٓ اِسْرَآءِيْلَ اَنَّهٗ مَنْ قَتَلَ نَفْسًا

وژل دَ رورد دهٔ پس ویوژلو پس شودے دَ زیان والونه (۳۰) پس رااولیږو الله تعالیٰ کارغه کنستل ئے کول په زمکه کښ دے دپاره چه اوخائی دَهٔ ته چه څنګه پټ کړی دے وجود دَ رور خپل دهٔ اُوئیل هائے ارمان دے آیا عاجز شوم دَ دینه چه شم دِ پشان دَ دے کارغه پس چه پټ کړم وجود دَ رور خپل پس شودے دَ حیرانونه (۳۱) دَ وجے دَ دے واقعے نه فرض کړل مونږه بنی اسرائیلو باندے چه یقیناً چاچه قتل کړو یو تن

لَاقْتُلَكَ فَاِذَا قَتَلْتَنِىْ فَتَبُوْٓءَ بِاِثْمِىْ) څه خوستاسودَ دفع کولوارادہ لرم نه دَ قتل کولونوتهٔ که مالره قتل کړے نواخته به شے په ګناه دَ قتل ځما اوخازن وئیلی دی انسان چه تمنا اوکړی چه ځما دَ وینے ګناه دِ په قاتل باندے راشی نودے په دے کښ ملامته نه دے ﴿بِاِثْمِىْ وَاِثْمِكَ﴾ (سوال) دَ اول لفظ نه ظاهراً معلومیږی چه ګناه دَهابیل به په قابیل باندے راځی اودا خودَ دے ایت نه خلاف ده چه (لَاتَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰى) (جواب) دَ اثمی نه مراد ګناه په قتل کولودَ قابیل دے هابیل لره اودا عمل خودَ قابیل دے، واثمك دَ دے نه مراد دَ قابیل نورګناهونه دی تقویٰ نه کول، حسد کول دَ رورسره وغیره ﴿مِنْ اَصْحَابِ النَّارِ﴾ دا لفظ اکثردَ کافرانوپه باره کښ استعمالیږی دَ دے وجے نه بعض مفسرینو تصریح کړے ده چه قابیل کافروؤ لیکن قرطبی دَ هغے ردکړے دے اواصحاب الناردَ قاتل په باره کښ استعمالیږی اشاره ده چه په جهنم کښ به دے ډیره موده پورے اوسیږی۔

[۳۰] اشاره ده چه دَ هابیل وعظ قابیل ته فائده ورنکړله ﴿فَطَوَّعَتْ لَهٗ نَفْسُهٗ﴾ په معنیٰ دَ تشجیع اوخائسته کولو آسانولوسره دے، نفسه اشاره ده چه داسے نفس امّاره بالسوء دے ﴿الْخَاسِرِيْنَ﴾ خسران په دُنیاکښ دا دے چه موراوپلار ترینه خفه شول اوبے روزه پاتے شواوخسران اُخروی دا دے چه الله تعالیٰ ئے ناراض کړو او ظالم شو او اور ورله واجب شو۔

[۳۱] دا ذکردَ یواثردے دَ آثارودَ خسران نه یعنی پوهه دَ قابیل دو مره کمه شوه چه په تعلیم کښ غراب ته محتاج شو، ظاهردَ ایت دا دے چه یوکارغه وؤ اوزمکه ئے اوکنستله اوخپل څه خوراك ئے پکښ پټ کړونوقابیل دَ هغے نه عبرت واخستلو نو دهٔ هم هابیل دپاره قبر اوکنستلو او هغه ئے پکښ خښ کړو او دا اول مړے وؤ په انسانانوکښ دَ دے وجے قابیل ته علم نه وؤچه دهٔ سره څه چل اوکړی ﴿سَوْءَةَ اَخِيْهِ﴾ دَ بدن هغه حصه چه دَ هغے په سکاره کیدلو بدګنړلے کیږی دَ ژوندی عورت ته سوءة وئیلے شی اودَ مړی ټول بدن سوءة دے یعنی لاش ﴿فَاَصْبَحَ مِنَ النّٰدِمِيْنَ﴾ (سوال) ندامت خو توبه ده لکه چه په حدیث کښ وارد دی (اَلنَّدَامَةُ تَوْبَةٌ) ؟(جواب) دا ندامت په ګرځولودَ هابیل دَلاش سره په خپله غاړه باندے مخکے دَ دفن نه یا ندامت دے په کموالی دَ قتل او زیات والی دَ نقصان دَ هغے، په نفس قتل کولو ئے ندامت نه دے کړے۔

بِغَيْرِ نَفْسٍ اَوْ فَسَادٍ فِي الْاَرْضِ فَكَاَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيْعًا ؕ وَمَنْ اَحْيَاهَا فَكَاَنَّمَاۤ اَحْيَا
النَّاسَ جَمِيْعًا ؕ وَلَقَدْ جَآءَتْهُمْ رُسُلُنَا بِالْبَيِّنٰتِ ۫ ثُمَّ اِنَّ كَثِيْرًا مِّنْهُمْ بَعْدَ ذٰلِكَ فِي الْاَرْضِ
لَمُسْرِفُوْنَ ﴿۳۲﴾ اِنَّمَا جَزٰٓؤُا الَّذِيْنَ يُحَارِبُوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَيَسْعَوْنَ فِي الْاَرْضِ فَسَادًا اَنْ يُّقَتَّلُوْۤا
اَوْ يُصَلَّبُوْۤا اَوْ تُقَطَّعَ اَيْدِيْهِمْ وَاَرْجُلُهُمْ مِّنْ خِلَافٍ اَوْ يُنْفَوْا مِنَ الْاَرْضِ ؕ ذٰلِكَ لَهُمْ خِزْيٌ
فِي الدُّنْيَا وَلَهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿۳۳﴾ ۙ اِلَّا الَّذِيْنَ تَابُوْا مِنْ قَبْلِ اَنْ تَقْدِرُوْا عَلَيْهِمْ ۚ

بغیرد بدل د بل تن نه یابغیرد فساد نه په ځمکه کښ پس ګویاکه قتل کړل دهٔ خلق ټول، اوچاچه بچ اوساتو یوتن لره پس ګویا که بچ اوساتل دهٔ خلق ټول اویقیناً راغلی ؤو دویته رسولان ځمونږ په ښکاره حکمونو سره بیا یقیناً ډیرد دوینه پس د دینه په زمکه کښ د حدنه تیر وتل کؤونکی دی (۳۲) یقیناً سزا د هغه کسانوچه جنګ کوی د اللّٰه سره اودَ رسول د هغه سره اوکوشش کوی په دُنیا کښ د روانی کولو چه قتل کړے شی دوی یاپه سولے کړے شی یاپرے کړے شی لاسونه د دوی اوخپے د دوی ادل بدل یااوشړلے شی د مخ د ځمکے نه دا دوی لره شرمول دی په دُنیا کښ او دوی لره په آخرت کښ عذاب لوئے دے (۳۳) مګرهغه کسان چه توبه ئے ویسته مخکښے د دینه چه وس برشی ستاسوپه هغوی باندے

[۳۲] په دے کښ انتقال د بحث دے د واقعے د قابیل نه ذکرد خبائثودَ بنی اسرائیلوته ﴿مِنْ اَجْلِ ذٰلِكَ﴾ قرطبی وئیلی دی چه اجل په معنیٰ د جنایت اوجرم سره دے اوذالك اشاره ده قابیل ته یا ذاجل په معنیٰ مشهورے سره دے اوذالك اشاره ده هغه مفاسدوته چه پیداشویدی د قتل عمدنه یعنی دغه جرم چه مستلزم دے ډیرومفاسدو لره سبب دے دپاره د مشروعیت د قصاص اودَ تشدید په باره د قتل عمدکښ په ټولو روستنودینونو کښ اوبالخصوص په بنی اسرائیلوکښ قسوة قلب (سختوالے د زړونو) ډیروؤ د حسد د وجے نه په هغوی کښ قتل وقتال او نور مفاسد ډیر پیدا وؤ ﴿اَنَّهٗ مَنْ قَتَلَ نفسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ﴾ په طریقه د اشارة النص سره معلومه ده چه قتل د نفس په قصاص سره اوپه زنا بعد الاحصان او ارتداد اوقطع الطریق سره ضروری دے اودَ دے نه چه علاوه وی نوهغے ته قتل ظلما اوبغیرحق وئیلے شی نودَ هغے خباثت ئے ذکر کړے دے په عبارة النص کښ ﴿اَوْفَسَادٍ فِي الْاَرْضِ﴾ مراد د دے نه هغه معاصی دی چه شرعاً سبب دے دپاره د قتل کولو چه په حدیث د بخاری اومسلم کښ راغلی دی (لَايَحِلُّ دَمُ امْرِیءٍ مُسْلِمٍ اِلَّا بِاِحْدیٰ ثَلٰثٍ كُفْرٍ بَعْدَ اِيْمَانٍ اَوْزِناً بَعْدَ اِحْصَانٍ اَوْقَتْلِ نَفْسٍ بِغَيْرِ نَفْسٍ) (حلال نه ده وینه دَمسلمان شخص مګرپه یودَ درے خصلتونوسره کفرکول روستودَ ایمان نه یا زناکول روستودَ واده کولونه یا وژل د یونفس بغیرد بدل نه)۔ ﴿وَمَنْ اَحْيَاهَا﴾ مراد د دے نه احیاء مقابل د قتل ده مقابل د موت نه ده اومقابل د قتل دا ده چه یونفس لره د هلاکت د ځائے نه اودَغرق یا سوزیدلویا د قاتل دَلاس نه بچ کړی اودیته معنوی حیاة وئیلے شی ﴿وَلَقَدْ جَآءَتْهُمْ﴾ اشاره ده چه د دغه حکم دَجاری ساتلودپاره په بنی اسرائیلوکښ ډیررسولان اللّٰه تعالیٰ رالیږلی دی دپاره د دے چه د دوی بهانه پاتے نشی۔

[۳۳] دا ذکرد بعضے قسمونودَ اسراف دے چه هغه سبب د سزا دے په دُنیا او اخرت کښ او دا خباثات

فَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٣٤﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَابْتَغُوْٓا اِلَيْهِ الْوَسِيْلَةَ وَجَاهِدُوْا فِيْ سَبِيْلِهٖ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿٣٥﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوْ اَنَّ لَهُمْ مَّا فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا وَّ

پس پوهه شئ یقیناً اللّٰه تعالیٰ بخونکے دے رحم کؤونکے دے (۳٤) اے ایمان والو: اویریږئے دَ اللّٰه تعالیٰ نه، او اولټوئے خاص اللّٰه تعالیٰ ته نزدے والے اوجهاد اوکړئے په لاردَ اللّٰه تعالیٰ کښ دَ دے دپاره چه کامیاب شئے تاسو (۳۵) یقیناً هغه کسان چه کفرئے کړے دے که چرے شی دوی لره هغه څه چه په ځمکه کښ دی ټول او

په بنی اسرائیلو کښ روستو دَ تورات نه موجود شوی وؤدَ دے ایت په باره کښ اختلاف دے دَ مفسرینوچا وئیلی دی چه دا نازل شویدے په باره دَ عکل او عرینینو کښ چه هغوی مرتد شوی وؤ، اوښان ئیے تختولی وؤاوڅوکیدار دَ اوښانو ئیے په ناکاره قتل سره وژلے وؤاوهغه بخاری اومسلم روایت کړے دے اوچا وئیلی دی چه نازل شویدے په باره دَ اهل کتابو کښ لیکن صحیح دا ده (ابن کثیروئیلی دی) چه دا ایت عام دے مشرکانو وغیره ټولوته ﴿يُحَارِبُوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ﴾ مخالفت کوی دَ اللّٰه تعالیٰ اودَ رسول دَ هغه نه برابره خبره ده که په طریقه دَکفراو ارتداد سره وی یانه وی ﴿وَيَسْعَوْنَ فِي الْاَرْضِ فَسَادًا﴾ په لارے شوکولوسره دَخلقوپه قتل کولویا په یره ولوسره اوپه مالونواخستلوسره ﴿اَنْ يُّقَتَّلُوْٓا﴾ په دے کښ اختلاف دَ اقوالودَ سلفودے یوقول دا چه اودپاره دَ تخییردے دَ قاضی یا امیرالمؤمنین خوښه ده که په سزاکانو کښ هریوه سزا ورکوی۔ دویم قول دا دے چه اودپاره دَتنویع دے دَابن عباس رضی اللّٰه عنهما نه روایت دے چه که دوی صرف قتل کړے وی دَ مسلمان نوسزائیے صرف قتل ده وغیره ﴿اَوْ يُنْفَوْا مِنَ الْاَرْضِ﴾ سمعانی دَ عمربن عبدالعزیزنه نقل کړے دے چه دَ ټولواسلامی بلادونونه به اوشړلے شی اودَ اهل کوفه نه نقل دی چه جیل کښ دِ بندکړے شی اوابن جریردا غوره کړے ده ﴿ذٰلِكَ لَهُمْ خِزْيٌ﴾ هرکله چه قطع الطریق سره تجارتونه بندشی سفرکول دَ طاعتونودپاره هم بندشی دَ دے وجے نه اللّٰه تعالیٰ دَ دے دپاره سخته سزا مقررکړه اوپه تیر شوو سزا گانوکښ په هریوکښ تذلیل اوتوهین اوشرمندگی ده په دُنیاکښ ﴿وَلَهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيْمٌ﴾ د دے نه استدلال دے دَ هغه چاچه وائی چه په عقوبت دُنیویه سره سزا دَ اخرت نه معاف کیږی اومقابل قول والاوائی چه دا په باره دَ کافرانوکښ دے لیکن صحیح دا ده چه ایت عام دے۔

[۳٤] که ایت په باره دَکافرانوکښ وی نودا حکم خوظاهردے چه په توبه کولو سره دَ شرك اوکفر نه علاوه ټول ګناهونه معاف کیږی اوچه ایت په باره دَمسلمان کښ شی نودَاکثراهل علم مسلك دادے چه په دے توبه سره حقوق اللّٰه معاف شول اوقصاص اوحقوق العبادنه معاف کیږی کله چه مخکښ دَ قدرت موندلونه په دهٔ باندے دے توبه اوباسی اوکه روستودَ قدرت موندلونه (یعنی رانیولونه)توبه اوباسی نوحدود الٰهیه ورته هم نه معاف کیږی لکه چه حقوق العباد ورته معاف نه دی اودا قول راجح دے۔

[۳۵] ربط دَ دے ایت دَ مخکے سره دا دے چه مخکے ایتونوکښ خباثات دَ بنی اسرائیلوقولی اوعملی ذکرشول نواوس مؤمنانوته په تقویٰ سره خطاب کوی مراد دَ تقویٰ نه دا دے چه دغه خباثات چه ذکرشول دَهغے نه ځان بچ ساتئی ﴿اِتَّقُوا اللّٰهَ﴾ احکام شرعیه دوه قسمه دی یومنهیات دَ هغے نه ځان بچ

کول دویم مامورات چه دَ هغے امتثال اوعمل کول پکاردی دارنګ دَ احکام شرعیه دوه حالات دی یو پخپله عمل کول دویم نورو خلقو ته دعوت کول، نو ترك منهیات ته اشاره ده په اتقوا اللّٰه کښ اودا معنیٰ ابن کثیر اوخازن و غیره ذکر کړے ده او عمل په ماموراتو ته اشاره ده په وابتغوا الیه الوسیلة سره۔

دَ وسیلے دَ مسئلے تفصیل

دامشتمل دے په یو څو بحثونو باندے۔

اول بحث په معنیٰ لغوی او اصطلاحی کښ:

امام راغب په مفردات القرآن کښ وئیلی دی چه وسیله (التوصل الی الشّیٔ برغبة) رسیدل یو څیز ته په مینه سره۔ او ابن منظورپه لسان العرب کښ وئیلی دی وسیله منزله ، درجه، رغبت وصلة ته وائي ۔ او واسل رغبت کوؤنکے شعرکښ دی (اَلاَ کُلُّ ذِی رایٍ الی اللّٰه واسلٌ) اووسیله په اصطلاح دَشریعت کښ امام راغب وئیلی دی چه (مَرَاعَاةُ سَبِیْلِهٖ بِالْعِلْمِ وَالْعِبَادَةِ وَتَحَرِّیْ مَکَارِمِ الشَّرِیْعَةِ) (مفردات) (لحاظ کول دَ لارے دَ اللّٰه تعالیٰ په علم اوعبادت سره او کوشش کول ښه کارونودَ شریعت کښ)۔

دویم بحث:

توسل اودَ هغے سره متقارب الفاظ: استغاثه طلب دَغوث ته وئیلے شی اوغوث ازاله دَ سختئی ته وائي، استنصار طلب دَ نصرت ته وئیلے شی نواستغاثه اواستنصارپه مخلوق سره په هغه څیزونو کښ چه په قدرت دَ مخلوق کښ وی هغه بغیردَخلاف نه جائزدے لکه په دے ایت(فَاسْتَغَاثَهُ الَّذِیْ مِنْ شِیْعَتِهٖ) او(مَنْ اَنْصَارِیْ اِلَی اللّٰهِ) او دَ کوم کارچه مخلوق قدرت نه لری په هغے کښ استغاثه اواستنصارپه اللّٰه تعالیٰ پورے خاص دے لکه ﴿اِذْتَسْتَغِیْثُوْنَ رَبَّکُمْ﴾[انفال] او ﴿مَا النَّصْرُ اِلَّامِنْ عِنْدِاللّٰهِ﴾ [انفال]۔

او استعانت طلب دَعون (مدد) دے په دے کښ همدغه تفصیل دے۔

اواستمداد په دے کښ همدغه تفصیل دے۔

اواستشفاع کوم چه په قدرت دَ بنده کښ وی لکه دَ بل دپاره دُعا غوختل یا په اخرت کښ په اذن دَ اللّٰه تعالیٰ سره شفاعت کول په دے وجے سره دَ نبی ﷺ صفت شافع شفیع المشفع راغلے دے اودا مراد دے په هغه حدیث کښ چه ابوداؤد روایت کړے دے چه یوسړی اوئیل نبی ﷺ ته (اِنَّا نَسْتَشْفِعُ بِاللّٰهِ عَلَیْكَ وَنَسْتَشْفِعُ بِكَ عَلَی اللّٰهِ فَقَالَ شَأْنُ اللّٰهِ اَعْظَمُ مِنْ ذَالِكَ اِنَّهُ لَایُسْتَشْفَعُ بِهٖ عَلٰی اَحَدٍ مِّنْ خَلْقِهٖ) (چه شفاعة طلب کوؤ په اللّٰه تعالیٰ په تا باندے او شفاعة طلب کوؤ په تا سره په اللّٰه تعالیٰ باندے نو هغه اوفرمائیل شان دَ اللّٰه تعالیٰ ډیرلوئیے دے دَ دے نه یقیناً په هغه سره شفاعت نشی طلب کولے په هیڅا باندے دَ مخلوق نه نودلته شفاعت بالاذن مراد دے اوکوم چه استشفاع با لمخلوق ده پشان دَهغه خلقوچه وئیل ئیے هٰؤُلَاءِ شُفَعَآءُ نَا عِنْدَ اللّٰهِ نوهغه شفاعت شرکیه دے۔

اوتوسل:

شیخ الاسلام کتاب الوسیله کښ لیکلی دی چه دا مشترك لفظ دے اوشرح عقیدة الطحاویه ص۲٦۳ (طبع مکتبه سلفیه لاهور) کښ دی (فَلَفْظُ التَّوَسُّلِ بِالشَّخْصِ وَالتَّوَجُّهُ بِهٖ فِیْهِ اِجْمَالٌ غَلَطَ بِسَبَبِهٖ مَنْ لَّمْ یَفْهَمْ

مَعْنَاهُ) (لفظ دَ توسل په شخص سره په دے کښ اجمال دے چه په سبب دَ هغے سره غلط شوی دی هغه څوك چه دَ دے په معنیٰ نه پوهیږی) دارنګ لفظ دَ وسیله په فلانی سره او وسیله یا لذوات او وسیله په دُعا سره دا ټول مبهم الفاظ دی۔

دریم بحث:

په اقساموددَ وسیله کښ دے پوهه شه چه وسیله کښ بعضِ اقسام شرعی دی او بعضے اقسام شرکیه دی او بعضے قسمونه بد عیه دی، دارنګ توسل دوه قسمه دے یودا چه طلب دَ قربت دَ اللّٰه تعالیٰ په ایمان اونیك عملونوسره بغیردَ طلب دَ حاجت نه اودَ دُعانه وی یعنی یو شخص ایمان راوړی او نیك عملونه په دے نیت سره کوی چه اللّٰه تعالیٰ ته نزدے شی ، دویم قسم توسل په طلب دَ حاجت اودَ دُعا کښ دے۔

څلورم بحث:

اقسام شرعیه دَ وسیلے اودَ هغے دلیلونه: شرعي اقسام په دے کښ شپږ دی:

اول قسم: وسیله نیول په نومونو او صفتونودَ اللّٰه تعالیٰ سره اودلیل دَ دے دپاره قول دَ اللّٰه تعالیٰ دے (وَلِلّٰهِ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى فَادْعُوْهُ بِهَا) اعراف۔ (۱۸۰)

دویم قسم: وسیله ده په ایمان اواعمال صالحوسره په دُعاکښ داهم په قرآن کریم اواحادیث صحیحه اواجماع دَ اُمت سره ثابت ده په قرآن کریم کښ مخکے راوړل دَ(ایاك نعبد)په ایاك نستعین باندے اوهم داسے (وَاسْتَعِيْنُوْا بِالصَّبْرِ وَالصَّلٰوةِ) اوحدیث غارخوپدے باب کښ مشهوردے۔

دریم قسم: وسیله په خپل عجزسره لکه په دُعا دَ آدم اوحواء علیهما السلام سره۔

څلورم قسم: وسیله په دُعا غوختلوسره دَ ژوندی نه چه حاضروی یا ورته په اسبابوظاهریوسره علم وی په ډاك، ټیلفون تاروغیره سره۔

پنځم قسم: وسیله په اضافت دَ رب سره عباد صالحینوته لکه چه په حدیث عائشه رضی اللّٰه عنهاکښ دی په دُعا دَ نبیﷺ کښ اللهم رب جبرئیل ومیکائیل واسرافیل۔ (حدیث مسلم)

شپږم قسم: وسیله نیول په صلوة وئیلوسره په نبیﷺ باندے چه اول درود شرعی اووائی اوبیا دعا غواړی، داقسمونه دَ وسیلے شرعی قسمونه دی د دے نه انکار کول دَقرآن کریم اودَ احادیثونه انکارکول دی۔

پنځم بحث:

په ذکردَ اقسام غیرشرعیه دَ وسیلے کښ: اول قسم دا دے چه وائي په دُعاکښ په حق دَ فلانکی اوجاه دَ هغه اوحرمت دَ هغه اوبرکت اوطفیل دَفلانی په دے کښ فیصله دا ده که په دے طریقے سره دُعا چرته په حدیث صحیح یا حسن سره ثابت شی نوجائزده لیکن په دے کښ په بعض الفاظوکښ دَسره حدیث نیشته اودَ حق وجاه په باره کښ چه کوم احادیث دی موضوعی یا ضعیف دی نومعلومه شوه چه دا الفاظ لوستل بدعت دے۔ دویم قسم دَ توسل غیرشرعی دُعا غوختل دَیوخاص قبر په خوا کښ په دے عقیدے سره چه دُعا دَ دے قبرپه خواکښ ښهٔ قبلیږی داهم بدعت دے، اودَ اسبابودَ شرك نه دے ځکه چه دَ قبرپه خواکښ دَ دُعا دَ قبلیدلودپاره هیڅ دلیل شرعی نیشته۔ دریم قسم دَ توسل غیرشرعی: دَ قبرپه خوا کښ قبروالا ته

مِثْلَهٗ مَعَهٗ لِيَفْتَدُوْا بِهٖ مِنْ عَذَابِ يَوْمِ الْقِيٰمَةِ مَا تُقُبِّلَ مِنْهُمْ ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٣٦﴾ يُرِيْدُوْنَ
اَنْ يَّخْرُجُوْا مِنَ النَّارِ وَمَا هُمْ بِخٰرِجِيْنَ مِنْهَا ۡ وَلَهُمْ عَذَابٌ مُّقِيْمٌ ﴿٣٧﴾ وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ
فَاقْطَعُوْٓا اَيْدِيَهُمَا جَزَآءًۢ بِمَا كَسَبَا نَكَالًا مِّنَ اللّٰهِ ۭ وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿٣٨﴾ فَمَنْ تَابَ مِنْۢ بَعْدِ

پشان دَ هغے ورسره نورشی دے دپاره چه بدله ورکړی په هغے سره دَ عذاب دَ ورځ دَ قیامت نه قبول به نه کړے شی دَ دوینه اودوی لره عذاب درد ناك دے (۳٦) اراده به کوی دوی چه اوځی دَ اورنه اونه به وی دوی وتونکی دَ اورنه اودپاره دَ دوی عذاب همیشه دے (۳۷) اوغلاکؤونکے سړے اوغلاکؤونکے ښځه پس پرے کړئے لاسونه دَ دوی سزا ده په وجه دَ هغے چه دوی کړی دی عبرت ناکه سزاده دَ طرف دَ اللّٰه تعالیٰ نه او اللّٰه تعالیٰ زور آور دے حکمتونو والا دے (۳۸) پس چاچه توبه ویستله پس دَ

خطاب اوکړی چه اے فلان ځما دپاره دَ اللّٰه تعالیٰ نه دُعا اوغواړه عقیده لری چه دا مړے آوری نودا هم په اتفاق دَ علماؤ سره نا جائزده۔ ځلورم قسم دَ وسیلے غیرمشروع دا دے چه دَ قبرپه خواکښ قبر والاته خطاب کوی چه ځما فلانے حاجت پوره کړه وغیره نودا خوښکاره شرك حقیقی دے۔ پنځم قسم دَ توسل غیرمشروع دا دے چه آوازکوی یوغائب ته (بغیرد اسبابونه) یا مړی ته لرے دَ قبرنه چه یا فلانی یا پیره ځما دپاره دَ اللّٰه تعالیٰ نه دعا اوغواړه په دے عقیدے سره چه هغه په غیبو باندے علم لری نودا هم شرك صریحی دے۔ شپږم قسم دَ توسل غیرشرعی دا دے چه آوازکوی مړی ته دَ قبرنه لرے یا یوغائب ته بے اسبابوچه یا فلانی بزرګه اویا پیره ځما مریض جوړ کړے ځما فلانے حاجت پوره کړه دا خوصریح شرك دے۔ حاصل دا دے چه دَ توسل فی الدعاء شپږقسام شرعیه اوشپږ اقسام غیرشرعی دے۔

[۳٦] داتخویف اُخروی دے او اشاره ده چه فلاح دپاره دغه مخکے درے امورضروری دی اوچاسره چه دغه درے اوصاف نه وی نوهغه په هیڅ قسم فدیه ورکولو سره دَ عذاب دَ اللّٰه تعالیٰ نه نشی بچ کیدلے ﴿كَفَرُوْا﴾ نه مراد هغه خلق دی چه دغه درے صفتونونه خالی وی ﴿مَا تُقُبِّلَ مِنْهُمْ﴾ په تفسیر دَ دے کښ هغه حدیث دے دَ بخاری اومسلم چه کافرته به اُوئیلے شی په ورځ دَ قیامت که تاله دِکه زمکه سره زردرکړے شی آیا ته به ئے دَ عذاب نه دَ بچ کیدلودپاره په فدیه کښ ورکړے هغه به اووائي هاؤیارب اللّٰه تعالیٰ به اوفرمائي چه ما ستانه په دُنیاکښ دَ دے نه آسان ځیز غوختلے وؤچه شرك مه کوه۔

[۳۷] مخکے ئے اوفرمائیل چه په فدیه سره نه بچ کیږی اوس پرے اضافه کوی چه په تختیدلوسره هم نشی بچ کیدلے ﴿يُرِيْدُوْنَ﴾ سمعانی وئیلی دی چه اراده په معنیٰ دَ تمنی کولوده اوایت په باره دَ کافرانوکښ دے نودا منافات نه لری دَ راوتلو دَ ګناهګارانومؤمنانودَ جهنم نه په سبب دَ شفاعت سره۔

[۳۸] ربط دا دے چه دفع دَ یو وهم ده هغه دا چه که اُوئیلے شی چه فدیه به ځکه نه قبلیږی چه دَ مال دَ دُنیا په نیزدَ اللّٰه تعالیٰ هیڅ احترام نیشته نوجواب اوشوچه احترام دَ مال په شرع کښ دا دے چه په سرقه دَمال سره لاس پریکیږی ﴿وَالسَّارِقُ﴾ ایت اګرچه عام اومطلق دے لیکن دَ احادیثوصحیحه په وجه سره دَ مال نصاب مقررشوے دے چه هغه قیمت دَ مِجن (ډال) دے په حدیث صحیح کښ راغلی دی اګرچه په هغے کښ اختلاف دَمجتهدینودے اوخوارج (دَ انکارحدیث دَ وجے نه) دَنصاب دَ سرقے قول نه کوی۔

ظُلْمِهٖ وَاَصْلَحَ فَاِنَّ اللّٰهَ يَتُوْبُ عَلَيْهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٣٩﴾ اَلَمْ تَعْلَمْ اَنَّ اللّٰهَ لَهٗ مُلْكُ
السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ يُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ وَيَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿٤٠﴾ يٰٓاَيُّهَا
الرَّسُوْلُ لَا يَحْزُنْكَ الَّذِيْنَ يُسَارِعُوْنَ فِى الْكُفْرِ مِنَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اٰمَنَّا بِاَفْوَاهِهِمْ وَلَمْ تُؤْمِنْ
قُلُوْبُهُمْ ۛ وَمِنَ الَّذِيْنَ هَادُوْا ۛ سَمّٰعُوْنَ لِلْكَذِبِ سَمّٰعُوْنَ لِقَوْمٍ اٰخَرِيْنَ ۙ لَمْ يَاْتُوْكَ ؕ يُحَرِّفُوْنَ

ظلم دَ دهٔ نه اونیك ئے كړوعمل لره یقیناً اللّٰه تعالیٰ توبه قبلوی دَ دهٔ، یقیناً اللّٰه تعالیٰ بخنه كؤونكے رحم كؤونكے دے (۳۹) آیا تهٔ نه پوهیږے چه یقیناً اللّٰه تعالیٰ لره بادشاهی دَ اسمانونو اودَ ځمكے ده عذاب وركوی چاله چه اوغواړی اوبخنه كوی چاته چه اوغواړی او اللّٰه تعالیٰ په هر څیز قدرت لرونكے دے (٤٠) اے رسوله(ﷺ) نه دِ خفه كوی تاله هغه كسان چه جلتی كوی په كارونو دَكفر كښ دَ هغه كسانونه چه دوی وائی ایمان راوړے دے مونږ په خولودَ دوی سره اوایمان نه وی راوړے زړونو دَ دوی اودَ هغه كسانونه چه یهودیان دی غوږ كدی دپاره دَ دروغو(جوړولو په تاباندے) غوږ كدی دپاره دَ قوم نورچه نه وی راغلی تاته بدلوی

﴿فَاقْطَعُوْٓا﴾ مراد دَ دے نه داسے پریكول دی چه جدا شی دَ بدن نه سوال: سورة یوسف كښ راغلی دی (وَقَطَّعْنَ) هلته معنیٰ زخمی كول دی اوالفاظ یو بل ته نزدے دی نودلته معنیٰ دَپریكولوپه جداكولوسره څنگه صحیح كیږی؟ جواب: سورة یوسف كښ معنیٰ مجازی مراد كړے شویده دَیوقرینے دَ وجے نه اوهغه هم قول دَ بعض مفسرینودے نودا ضروری نه ده چه دَ قطع معنیٰ دِ بل ځائے هم دا وی بلكه كوم ځائے چه معنیٰ حقیقی امكان لری اوقرینه دَ مجازنه وی نولفظ به په معنیٰ حقیقی باندے حمل كیدے شی۔ په ایت دَ سرقه كښ بله قرینه هم نیشته اوپه سلفو كښ دَ هیڅ مفسر قول نیشته چه دَ قطع معنیٰ مجازی دِ واغستلے شی﴿جَزَآءً بِمَا كَسَبَا﴾ بدله مناسب ده دَ عمل سره اشاره ده چه دا عمل دَ غلاپه لاس باندے كیږی نومناسب هم دا ده چه سزا لاس له وركړے شی ﴿نَكَالاً مِّنَ اللّٰهِ﴾ نكال هغه سزاوی چه په سبب دَعبرت دَهغے سره منع شی دَ ارتكاب دَ داسے عمل نه په اینده زمانه كښ دغه كؤونكے اوتماشه كؤونكے هم۔

[۳۹] دا ترغیب دے توبه كولو ته دَ دے جرم نه اشاره ده چه یوائے عقوبت دَگناه دَ ختم كولودپاره كافی نه دے ځو پورے چه توبه نه وی ﴿مِنْۢ بَعْدِ ظُلْمِهٖ﴾ ظلم نه مراد سرقه كول دی ﴿وَاَصْلَحَ﴾ یعنی لكه چه دَ غلانه توبه كړی نودغسے دَ هر گناه نه دے توبه اوباسی دَهرجرم په ځائے باندے بل جرم نه كوی ﴿فَاِنَّ اللّٰهَ يَتُوْبُ عَلَيْهِ﴾ په توبه سره حدنه ساقطیږی توبه خو قبوله ده اوقطع دپاره دَ نكال اودَ عبرت ده۔

[٤٠] دا خطاب دے نبیﷺ ته او مراد ترینه تنبیه ده عام انسانانو ته چه حدود سابقه به په مجرم باندے جاری كیږی ځكه چه اللّٰه تعالیٰ مطلق بادشاه اواختیارمند دے هغه دَچا دَ یرے نه یا دَ مینے نه نه مجبوره كیږی اوهركله چه بادشاهی خاص دَاللّٰه تعالیٰ ده نودَ هغه خوښه ده چه په بعضے جرم باندے دَ قتل اوصلیب سزا وركوی اوپه بعضے باندے دَ قطع دَلاس سزا وركوی۔

الْكَلِمَ مِنْۢ بَعْدِ مَوَاضِعِهٖ ۚ يَقُوْلُوْنَ اِنْ اُوْتِيْتُمْ هٰذَا فَخُذُوْهُ وَاِنْ لَّمْ تُؤْتَوْهُ فَاحْذَرُوْا ؕ وَمَنْ يُّرِدِ اللّٰهُ فِتْنَتَهٗ فَلَنْ تَمْلِكَ لَهٗ مِنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا ؕ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ لَمْ يُرِدِ اللّٰهُ اَنْ يُّطَهِّرَ قُلُوْبَهُمْ ؕ لَهُمْ فِى الدُّنْيَا خِزْىٌ ۖ وَّلَهُمْ فِى الْاٰخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿٤١﴾ سَمّٰعُوْنَ لِلْكَذِبِ اَكّٰلُوْنَ لِلسُّحْتِ ؕ فَاِنْ جَآءُوْكَ فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ اَوْ اَعْرِضْ عَنْهُمْ ۚ وَاِنْ تُعْرِضْ عَنْهُمْ فَلَنْ

کلمے دَ اللّٰه تعالیٰ روستودَ ځایونودَ هغے نه، وائی دوی که درکړے شی تاسوته داحکم پس قبلوئے هغے لره اوکه درنکړے شی دا حکم پس ځان اوساتئے۔ اوځوك چه غواړی اللّٰه تعالیٰ ګمراهی دَ هغه پس هیڅ چرے اختیارنه لرے تهٔ هغه لره په نیزدَ اللّٰه تعالیٰ دَ هیڅ شی دغه هغه کسان دی چه اراده نه ده کړے اللّٰه تعالیٰ چه پاك کړی زړونه دَ هغوی۔ دوی لره په دُنیا کښ شرمول دی اودوی لره په آخرت کښ عذاب لوئے دے (٤١) بنه آوری دروغ خبرے ډیر خوری حرامو لره، پس که راشی دوی تاته پس فیصله اوکړه په مینځ دَ دوی کښ یامخ اوګرځوه دَ دوینه اوکه مخ ګرځوے دَ دوی نه پس هیڅ چرے

[٤١] دَ دے ایت نه دَ سورت دویمه حصه ده تر(٦٥) پورے اوپه دے کښ دوه بابونه دی اول باب دے تر (٥٠) پورے په دے کښ خطاب دے رسول ته دپاره دَتسلّئے اواوصاف دَیهودیانولس ذکرکوی دپاره دَ زجریهٔ حال دَهغوی باندے، بیا ذکردَکتب ثلثه دے(تورات انجیل اوقرآن) او ربط دَ دے ایت دَ مخکے سره دا دے چه کوم حدود بیان شول نوپه رسول اللّٰهﷺ باندے دَ هغے اجراء لازمه ده بغیرد پرواه کولودَ منافقانو اویهودیانونه﴿يٰٓاَيُّهَا الرَّسُوْلُ﴾ خطاب پدے صفت سره دپاره دَ ترغیب او دَتشجیع دے ﴿لَا يَحْزُنْكَ﴾ (سوال) انسان شفقت کوؤنکے خوضرورخفه کیږی په کفراوپه معصیت کولو دَخلقو باندے؟ (جواب) مراد دَ دے نه عمل دَ دے کافرانودے چه په دے سره تاته هیڅ ضرراونقصان نه رسیږی۔ ﴿يُسَارِعُوْنَ﴾مراد دَمسارعت نه بے فکره اوبے دلیله اوپه مینه سره کفراودَکفرکارونه کول دی۔ ﴿سَمّٰعُوْنَ﴾ دا صفتونه په یهودوکښ وؤ اوپه منافقانو کښ هم کله کله بکاره کیدل دلته سمع په معنیٰ دَقبلولو سره ده ﴿لِلْكَذِبِ﴾ هغه چه دَ دوی علماؤدَځان نه مسئلے جوړے کړے دی اودوی ئے بے دلیله قبلوی﴿سَمّٰعُوْنَ لِقَوْمٍ اٰخَرِيْنَ﴾داوصف دَجاسوسئے کولودے چه منافقانوبه جاسوسی دَیهودودپاره کوله اویهودیانو کشرانوجاسوسی کوله دپاره دَلویوملایانوخپلو﴿يُحَرِّفُوْنَ الْكَلِمَ﴾دا صفت دَقوم دے ځکه تحریف کول دَلویوملایانو کاروؤ، اومراد دَ تحریف نه تاویلونه کول دی په خپل رائے اوخواهش سره۔ ﴿مِنْۢ بَعْدِ مَوَاضِعِهٖ﴾ دلته ئے لفظ دَمن بعد راوړے دے اشاره ده تحریف لفظی اومعنوی دواړوته لکه دوی دَحکم دَ رجم تحریف کړے وؤجلد اومخ تورولوته نودا دَ لفظ دَ رجم نه لرے تاویل کول دی﴿يَقُوْلُوْنَ﴾دا وصیت کول دی دَ مشرانویهودیانوهغه کشرانوته چه کله کله به مجلس دَ رسول اللّٰهﷺ ته راتلل ﴿اِنْ اُوْتِيْتُمْ هٰذَا﴾ په هذا سره اشاره ده حکم محرف ته لکه جلد اومخ تورول په ځائے دَ حکم دَ رجم۔

يَضُرُّوْكَ شَيْـًٔا ؕ وَاِنْ حَكَمْتَ فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ بِالْقِسْطِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِيْنَ ﴿۴۲﴾ وَكَيْفَ
يُحَكِّمُوْنَكَ وَعِنْدَهُمُ التَّوْرٰىةُ فِيْهَا حُكْمُ اللّٰهِ ثُمَّ يَتَوَلَّوْنَ مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ ؕ وَمَآ اُولٰٓئِكَ
بِالْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۴۳﴾ اِنَّآ اَنْزَلْنَا التَّوْرٰىةَ فِيْهَا هُدًى وَّنُوْرٌ ۚ يَحْكُمُ بِهَا النَّبِيُّوْنَ الَّذِيْنَ اَسْلَمُوْا لِلَّذِيْنَ
هَادُوْا وَالرَّبّٰنِيُّوْنَ وَالْاَحْبَارُ بِمَا اسْتُحْفِظُوْا مِنْ كِتٰبِ اللّٰهِ وَكَانُوْا عَلَيْهِ شُهَدَآءَ ۚ فَلَا
تَخْشَوُا النَّاسَ وَاخْشَوْنِ وَلَا تَشْتَرُوْا بِاٰيٰتِيْ ثَمَنًا قَلِيْلًا ؕ وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰٓئِكَ

ضرر به اونه رسوی تاته هیڅ۔ اوکه فیصله کوله تاپس فیصله کوه په مینځ د دوی کښ په انصاف سره یقیناً اللّٰه تعالیٰ مینه کوی د انصاف کؤونکوسره (٤٢) اوڅرنګ به فیصله اوکړی په تاباندے او د دوی سره تورات دے په هغے کښ فیصله د اللّٰه ده بیامخ اړوی دوی روستو د دینه، اونه دی دوی مؤمنان (٤٣) یقیناً نازل کړے دے مونږ تورات په هغے کښ هدایت ؤو(د عقیدے) او رنړاوه (د عملونو) فیصلے کولے په هغے سره پیغمبرانوهغه کسان چه تابع ؤود حکم د اللّٰه تعالیٰ هغه کسانولره چه یهودیان ؤو اوخدائی خلقو اوعلماؤ په سبب د دے چه حفاظت غوښتے شوے وو د دوینه د کتاب د اللّٰه تعالیٰ اودوی ؤوپه هغے باندے خبردار (وئیلے شوی ؤو دویته) پس مه یریږئ د خلقونه او ویریږئ ځمانه، اومه اخلئے په آیاتونوځما بدله لږه (دُنیا) اوچاچه فیصله اونکړه په هغه حکم چه نازل کړے دے اللّٰه تعالیٰ پس دغه کسان

[٤٢] په دے ایت کښ د هغه یهودیانو نورحالات ذکرکوی ﴿سَمّٰعُوْنَ لِلْكَذِبِ﴾ اول سماعون په معنیٰ د قبلوؤنکی د دروغوخبرو ﴿اَكّٰلُوْنَ لِلسُّحْتِ﴾ اکالون صیغه د مبالغے دپاره د کثرت اواصرارکولوپه دغه ګناه باندے۔ سحت: په اصل کښ بیخ کندئے ته وئیلے شی اوحرامونه سحت د دے وجے نه وئیلے شی چه د برکت بیخ کندی کوی اوبیا په هلاکت باندے ئے هم اطلاق کیږی، قرطبی د سحت ډیرافراد لیکلی دی، رشوت اخستل یا د حاجت څوك پوره کړی اوپه هغے باندے هدیه قبلوی، اونیشاپوری وئیلی دی چه سحت هغه حرام ته وئیلے شی چه د هغے په اخستلوکښ شرم محسوس کیږی، لکه رشوت او مزدوری د زناکارئے ﴿فَاِنْ جَآءُوْكَ﴾ په دے ایت کښ د مفسرینو دوه قولونه دی اول دا چه دامنسوخ دے په ایت (وان احکم بینهم بما انزل اللّٰه) سره یعنی د کافرانوپه مینځ کښ شرعی فیصلے کول په حاکم مسلمان باندے لازم دی اودویم قول دا دے چه په سورۂ مائده کښ منسوخ نیشته نوذمیان کافران چه فیصلے راوړی نودحاکم اختیاردے که فیصله کوی اوکه نه کوی۔

[٤٣] داهم یهودوته زجردے اودهغوی دوه قبیح اوصاف نورذکرکوی، اوپدے کښ اشاره ده چه یهودیانو په فیصله راوړلو کښ حق اوشرع قائم کول مقصد نه وؤبلکه آسانه طریقه ئے ځان له طلب کوله ﴿فِيْهَا حُكْمُ اللّٰهِ﴾ مراد د دے نه هغه حکم د تورات دے چه په قرآن سره منسوخ شوے نه وی لکه رجم شویا قصاص شو ﴿وَمَآ اُولٰٓئِكَ بِالْمُؤْمِنِيْنَ﴾ قرطبی وئیلی دی چه د دے نه معلومه شوه چه څوك په حکم شرعی باندے راضی نه وی اوبل قانون ته خپله فیصله اوړی نوهغه کافردے اودا د یهودوحالت هم وؤ۔

هُمُ الْكٰفِرُوْنَ ﴿٤٤﴾ وَكَتَبْنَا عَلَيْهِمْ فِيْهَآ اَنَّ النَّفْسَ بِالنَّفْسِ ۙ وَالْعَيْنَ بِالْعَيْنِ وَالْاَنْفَ بِالْاَنْفِ
وَالْاُذُنَ بِالْاُذُنِ وَالسِّنَّ بِالسِّنِّ ۙ وَالْجُرُوْحَ قِصَاصٌ ؕ فَمَنْ تَصَدَّقَ بِهٖ فَهُوَ كَفَّارَةٌ لَّهٗ ؕ

دوی کافران دی (٤٤) اوفرض کړے دے مونږ په دوی باندے په تورات کښ چه نفس به قصاص کیږی په بدله دَ نفس کښ اوستړګه به قصاص کیږی په بدل دَ ستړګه کښ اوپوزه په بدل دَ پوزه کښ اوغوږ په بدله دَ غوږ کښ اوغاښ په بدله دَ غاښ کښ اونور زخمونه دی بدلے والا۔پس چاچه معافی اوکړوپدے (قصاص سره) پس داکفاره ده، دَګناهونو دَ دهٔ۔

[٤٤] په دے کښ زجردے یهودوته چه دوی دَ خپل کتاب نه مخ ګرځوؤ نودَ دوی هیڅ عذرنه وؤبلکه دا دَ خپلو مشرانونه هم مخالفت کول دی اوترغیب دے چه په تورات باندے دَ مشرانوپه طریقے سره عمل کوئے اودَ دے ایت نه تر(٤٨) پورے ذکر دَ درے کتابونودے چه دا دَ فیصلودپاره نازل شوی دی ﴿فِيْهَا هُدًى وَّنُوْرٌ﴾ په دے کښ اول فرق دا دے چه مراد دَ الهدیٰ نه بیان دَ حق دے دَ عقیدے اودَ اعمالواومراد دَ نورنه دفع دَ شبهاتوده په ذکردَ دلیلونوسره ﴿يَحْكُمُ بِهَا النَّبِيُّوْنَ﴾ اشاره ده چه مقصد دَ نزول دَ تورات حکمونه اوفیصلے کول وؤپه هغے باندے لیکن موافق دَ شرح دَ انبیاؤ سره ﴿لِلَّذِيْنَ هَادُوْا﴾ اشاره ده چه تورات خاص وؤپه هغوی پورے زمونږدپاره دَ هغے تشریع عام نیشته ﴿وَالرَّبّٰنِيُّوْنَ وَالْاَحْبَارُ﴾ دَ دے فرق په دوه وجو سره دے اول داچه ربانیون هغه علماء دی چه په هغوی باندے وصف دَ عبادت او زهد غالب وی په نسبت دَ علم سره او احبار هغه وی چه په هغوی کښ وصف دَعلم غالب وی په عبادت باندے اودواړه جمع کوؤنکی دَعلم اودَعمل دی ﴿بِمَا اسْتُحْفِظُوْا مِنْ كِتٰبِ اللّٰهِ﴾ پدے سره ذکردَ دوه سببونودے دپاره دَ ماقبل۔ ﴿يَحْكُمُ﴾ اول سبب دا دے چه اللّٰه تعالیٰ په دوی باندے حفاظت دَکتاب اللّٰه لازم کړے دے او حفاظت عام دے دَ الفاظو اودَمعانوپه درس وتدریس سره دَ تحریف اوتغییرنه بچ کول اودَ هغے اجراء دَ قانون په طورسره په خلقوکښ ﴿وَكَانُوْا عَلَيْهِ شُهَدَآءَ﴾ دا دویم سبب دے، شهادت په معنیٰ دَ علم دے سرهٔ دَ تصدیق دَ حقانیت دَ دغه کتاب، خازن وئیلی دی چه دا وعده دَ ټولو علماؤنه اخستلے شویده په باره دَکتاب اللّٰه کښ(چه قرآن دے) ﴿فَلَا تَخْشَوُا النَّاسَ﴾ دا ذکردَ دوه اوصافودے دپاره دَ حق (کتاب اللّٰه) دعوت اوبیان کولواول خشیت الٰهی دے اودَمخلوق دَ وجے دَ کتمان اومداهنت نه ځان بچ کول، دویم ﴿وَلَا تَشْتَرُوْا بِاٰيٰتِيْ ثَمَنًا قَلِيْلًا﴾ یعنی دَ حرص دَ دُنیا په وجے سره حق پټول یا مداهنت کول یا تحریف کولونه ځان ساتل﴿وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْكٰفِرُوْنَ﴾ پدے ایت سره دلیل نیولے دے خوارجوهغوی وائي چاچه یو کبیره ګناه اوکړه لکه ترك دَیوحکم بماانزل اللّٰه نوهغه کافردے دَ اسلام نه با لکل خارج دے اومسلك دَ اهل سنت دا دے چه په ارتکاب دَکبیره سره دَ اسلام نه نه خارجیږی ځوپورے چه انکار عمداً یا توهین دَ حکم شرعی ئے نه وی کړے، اودَ طاؤس نه نقل دی چه دَ ایت معنیٰ ظاهری مراد ده یعنی کافردے لیکن په طریقه دَکفردون کفرسره یعنی دَ ملت اسلامیه نه نه اوځی۔

وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿٤٥﴾ وَقَفَّيْنَا عَلٰٓى اٰثَارِهِمْ بِعِيْسَى ابْنِ
مَرْيَمَ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ التَّوْرٰىةِ ۖ وَاٰتَيْنٰهُ الْاِنْجِيْلَ فِيْهِ هُدًى وَّنُوْرٌ ۙ وَّمُصَدِّقًا
لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ التَّوْرٰىةِ وَهُدًى وَّمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿٤٦﴾ وَلْيَحْكُمْ اَهْلُ الْاِنْجِيْلِ بِمَآ اَنْزَلَ

اوچاچه فیصله اونه کړه په هغه حکم چه نازل کړے دے الله تعالیٰ پس دغه کسان دوی ظالمان دی (٤٥) اورا اولیګومونږپه نقش قدم دَ دوی باندے عیسی(علیه السلام) ځوئے دَ مریم تصدیق کؤونکے ؤودَ هغه کتاب چه دَ دے نه مخکښے ؤو چه تورات دے او ورکړے ؤو مونږدهٔ ته انجیل په هغے کښ هدایت ؤو او رنړا وه اوتصدیق کؤونکے ؤودَ هغه کتاب چه مخکښے دَ دهٔ نه ؤو چه تورات دے اوهدایت او وعظ ووډپاره دَ پرهیزګارانو (٤٦) (او وئیلومونږ) فیصلے دِ کوی انجیل والاپه هغه حکم چه نازل کړے دے

[٤٥] داپه طریقه دَ زجرسره دے په یهودیانوباندے چه یهودیانودَهغه کتاب(تورات)په حکم دَقصاص کښ مخالفت کړیدے لکه چه په حکم دَ زنادَ محصن کښ ئے هم خلاف کړے وؤچه هغه ذکرشو۔دوی مخالفت په حکم دَقصاص کښ په دوه طریقے سره کړے وؤیوداچه دوی بنی نضیرله فضیلت ورکړے دے په بنی قریظه باندے نوچه نضیری به قرظی لره قتل کړو نودوی به قصاص نه اخستلواوبرعکس به ئے اخستلودا رنګ دَ یونضیری په بدل کښ به ئے دوه قرظی قصاص کول دویم دوی حکم دَ دیت هم جاری کړے وؤاوحال داچه په دوی کښ حکم دَ دیت نه وؤاودَ دے ایت حکم په قرآن والو(دے اُمت باندے) هم جاری دے ځکه چه الله تعالیٰ داشرع مونږته ذکرکړه اودَهغے هیڅ تردید اوتخصیص ئے ذکرکړے نه دے ﴿اَنَّ النَّفْسَ بِالنَّفْسِ﴾ دا لفظ سړی او زنانه دواړوته شامل دے په دے کښ به دَ مالدار او غریب اوشریف نسب اوذلیل نسب فرق نه وی اودارنګ دَیوپه بدل کښ به دوه نه وژلے کیږی چه قاتل یو وی ﴿وَالْعَيْنَ بِالْعَيْنِ﴾ دے ته قصاص دَ اطرافو وئیلے شی په دے کښ دَځلو روحو اسو انسانیو ذکر دے ﴿وَالْجُرُوْحَ قِصَاصٌ﴾په دے کښ باقی قوتونه اواندامونه دَبدن پریکول یا زخمی کول داخل دی په دے شرط سره چه په هغے کښ قصاص اخستل امکان لری نودا تعمیم دے روستودَ تخصیص نه۔ اودا ټول حکم خاص دے په قصدی اوعمداً عمل پورے په خطاکښ قصاص نیشته۔ ﴿فَمَنْ تَصَدَّقَ بِهٖ﴾ په دے کښ ترغیب دے معافی کولوته دَ دے وجے نه هغے ته ئے تصدق اوئیل ﴿فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ﴾ اشاره ده چاچه دَ قصاص دَ قانون نه اعراض اوکړویا په هغے کښ ئے څه تغییراوتبدیلی اوکړه پشان دَ یهودیانونو دا سبب دَ دیرو ظلمونو دے اولفظ دَ ظلم او کفر ټولو ګناهونوته شامل دے۔

[٤٦] پلے کښ ذکرَ دویم کتاب دَ بنی اسرائیلودے چه انجیل دے نازل کړے شوے دے په عیسیٰ علیه السلام باندے ﴿وَمُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ﴾ اومصدق وصف دَ عیسیٰ علیه السلام وؤاودویم وصف دَ انجیل دے اوتصدیق منافی نه دے دَ نسخ دَ بعض احکامو سره ﴿وَهُدًى﴾ اول هدایت نه مراد احکام وؤ چه هغه بعضے دَ انجیل وؤځکه ئے هلته فیه ذکرکړو او دَ دے هدایت نه مراد رسوؤنکے دے حق ته باطل او غلطه خبره پکښ نیشته دے۔

اللّٰهُ فِيْهِ ؕ وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿٤٧﴾ وَاَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ
مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ الْكِتٰبِ وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ وَلَا
تَتَّبِعْ اَهْوَآءَهُمْ عَمَّا جَآءَكَ مِنَ الْحَقِّ ؕ لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنْكُمْ شِرْعَةً وَّمِنْهَاجًا ؕ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ
لَجَعَلَكُمْ اُمَّةً وَّاحِدَةً وَّلٰكِنْ لِّيَبْلُوَكُمْ فِيْ مَآ اٰتٰىكُمْ فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرٰتِ ؕ اِلَى اللّٰهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيْعًا
فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ فِيْهِ تَخْتَلِفُوْنَ ﴿٤٨﴾ وَاَنِ احْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ وَلَا تَتَّبِعْ اَهْوَآءَهُمْ

اللّٰه تعالی په انجیل کښ، او چاچه فیصله اونکړه په هغه حکم چه نازل کړے دے اللّٰه تعالی پس دغه کسان دوی نافرمان دی(٤٧) او نازل کړے دے مونږ تاته کتاب (قرآن) دَ حق دپاره تصدیق کؤونکے دے دَ هغه چه مخکښے دَ دهٔ نه دی کتابونه اوځوکئ کؤونکے دے دَ هغے پس فیصله کوه په مینځ دَ دوی کښ په هغه چه نازل کړے دے اللّٰه تعالی اوتابعداری مه کوه دَ خواهشاتودَ دوی (چه واړوی تاله) دَ هغے نه چه راغلے دے تاته حق دَ هرچا دپاره ستاسونه مقرر کړے دے مونږ (دا قرآن) شریعت اولوئے لاره، اوکه غوښتے وے اللّٰه تعالی خامخا کړځولے به ئے وے تاسوڅله یوه، لیکن (اختیارئے درکړے دے) دے دپاره چه ازمیښت اوکړی په تاسو باندے په هغه څه کښ چه درکړی دی تاسوته پس مخکښے شئے دَ یوبل نه نیکوکارونوته، خاص اللّٰه ته ورګرځیدل ستاسودَ ټولودی پس خبربه درکړی تاسوته په هغه څه باندے چه تاسو په هغے کښ اختلاف کوئ (٤٨) (اوحکم کوی تاسوته) چه فیصلے کوے په مینځ دَ دوی کښ په هغه کتاب چه نازل کړے دے اللّٰه تعالی اوتابعداری مه کوه دَ خواهشاتو دَ دوی

[٤٧] مخکښ صرف اوصاف ذکروؤاوس مقصد دَکتاب ذکرکوی چه هغه حکم کول دی۔ ﴿وَلْيَحْكُمْ﴾ دلته قلنا پټ دے وئیلی وو مونږ دوی ته په هغه وخت کښ یا داجمله مستقله ده ﴿اَلْفَاسِقُوْنَ﴾ اشاره ده چه دَ هدایاتودَ انجیل نه مخ اړول سبب دَ فسق دے که فسق دَ عقیدے وی چه هغه کفردے یا فسق دَعمل وی۔

فائده: په ذکردَ الکافرون والظالمون والفاسقون کښ اشاره ده چه معصیت درے قسمه دے اول په طریقه دَ انکارسره نوهغه کفردے دویم په طریقه دَ اعتداء کولوسره دَ حد شرعی نه نوهغه ظلم دے اودریم په طریقه دَ نقصان کولوسره دَ حد شرعی نه نوهغه فسق دے۔

[٤٨] روستودَ ذکردَ تورات اوانجیل نه ذکردَ قرآن کوی ﴿بِالْحَقِّ﴾ مراد دَ دے نه صدق دے یعنی شك نیشته په نازلیدلودَ دے کتاب کښ دَ طرف دَ اللّٰه تعالی نه نوبا دپاره دَ ملابست ده یاباسببیه ده په سبب دَاثبات اواظهاردَ حق ﴿مِنَ الْكِتٰبِ﴾ مراد دَ دے نه ټول کتابونه الٰهیه دی چه نازل شویدی دَ قرآن نه مخکښ اومراد دَ تصدیق نه موافقت دے په مضمون دَ توحید، رسالت او نورمسائل دَ عقیدے او اصولو کښ ﴿وَمُهَيْمِناً عَلَيْهِ﴾ په معنیٰ دَ امین، شاهد اوحاکم، مقصد دَ ټولومعانویو دے هغه دا دے چه مخکنو کتابونوکښ چه کوم اصول اوعقیدے دی نوکوم چه دے قرآن سره موافق وی نو هغه حق دی اوکوم چه دَ دے نه مخالف وی نوهغه به اهل کتابودَ ځان نه تحریف کړے وی اوباطل به وی۔ اومعلومه شوه چه داکتاب بچ کوونکے دے مخکنو کتابونو لره دَ تحریف اوتغییرنه، اومصدقاً اومهیمناً کښ اشاره ده دعوت

وَاحْذَرْهُمْ اَنْ يَّفْتِنُوْكَ عَنْۢ بَعْضِ مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ اِلَيْكَ ؕ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَاعْلَمْ اَنَّمَا يُرِيْدُ اللّٰهُ
اَنْ يُّصِيْبَهُمْ بِبَعْضِ ذُنُوْبِهِمْ ؕ وَاِنَّ كَثِيْرًا مِّنَ النَّاسِ لَفٰسِقُوْنَ ﴿٤٩﴾ اَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُوْنَ ؕ
وَمَنْ اَحْسَنُ مِنَ اللّٰهِ حُكْمًا لِّقَوْمٍ يُّوْقِنُوْنَ ﴿٥٠﴾ ع يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوا الْيَهُوْدَ وَ

اوځان ساته دَ دوینه (هسے نه) چه واړوی تاله دَ بعضے هغه نه چه نازل کړے دے اللّٰه تعالیٰ تاته، پس که مخ اوکړځوودوی پس پوهه شه یقیناً غواړی اللّٰه تعالیٰ چه اورسوی دویته (عذاب) په سبب دَ بعضِ ګناهونودَ دوی اویقیناً ډیرډَ خلقونه خامخا نافرمان دی (٤٩) آیا پس فیصلے دَ جاهلیت غواړی دوی، اوځوك زیات خائسته دے دَ اللّٰه تعالیٰ نه؟ په فیصله کښ دپاره دَ هغه قوم چه یقین کوی (٥٠) اے ایمان والو: مه نیسئے یهودیان او

ورکولو یهود او نصاریٰ ته چه دے کتاب باندے ضرورایمان راوړئے ﴿فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ﴾ دا تفریع ده په ما قبل صفاتودَ قرآن باندے چه هرکله دا منزل او مصدق اومهیمن دے نولازمه دا ده چه فیصلے به په دے کتاب باندے کوئے ﴿وَلَا تَتَّبِعْ اَهْوَآءَهُمْ﴾ په اهواء کښ هغه مسائل او احکام داخل دی چه اهل کتابودَ ځان نه جوړ کړی دی اوپه تورات اوانجیل کښ ئے داخل کړی دی ﴿لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنْكُمْ شِرْعَةً وَّمِنْهَاجًا﴾ پدے جمله کښ دفع دَ وهم ده هغه دا ده که اهل کتاب او وائی چه زمونږتورات اوانجیل کښ خودَ قرآن نه خلاف احکام موجود دی (لکه طریقے دَ مونځ اودَ روژے وغیره) نودے څرنګه مصدق اومهیمن دے؟ حاصل دَجواب دا دے چه په اصولواوعقیدوکښ ټول کتابونه متحد دی اوکوم چه مخالف دی نوهغه فروع اوجزئیات دی اوهغه دَ هرملت والو دپاره جداجدا دی اوهغه مخالفت سبب دَ اختلاف نه دے۔ اوتائید دَ دے هغه حدیث صحیح دے(اَلْاَنْبِيَاءُ اِخْوَةٌ لِعَلَّاتٍ اُمَّهَاتُهُمْ شَتّٰى وَدِيْنُهُمْ وَاحِدٌ) نومراد دَ شرعة او منهاج نه احکام فرعیه دی ، شرعة ورته پدے لحاظ سره وئیلے شی چه اللّٰه تعالیٰ مقررکړے دے او منهاج ورته پدے لحاظ وئیلے شی چه په هغے باندے تلل او عمل کول ضروری دی ﴿وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ﴾ په دے جمله کښ حکمت بیانوی دَ اختلاف دَ شرائعو چه په تورات او انجیل او قرآن کښ جدا جدا دی ﴿وَلٰكِنْ لِّيَبْلُوَكُمْ﴾ یعنی هر یوامت مکلف اومبتلی دے په هغه شرائعوچه اللّٰه تعالیٰ په هغوی باندے مقررکړی دی ﴿فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرٰتِ﴾ مراد دَ دے نه طاعة دَ اللّٰه تعالیٰ اواتباع دَ رسول ﷺ اوتصدیق دَ قرآن دے۔

[٤٩] په دے ایت کښ تاکید دے په باره دَحکم بالقرآن کښ ﴿وَلَا تَتَّبِعْ اَهْوَآءَهُمْ﴾ مخکے ایت کښ اهواء دَ عاموخلقو مراد وؤاودلته اهواء دَ علماء سوء مراد دی ﴿وَاحْذَرْهُمْ اَنْ يَّفْتِنُوْكَ﴾ په دے کښ خاص تنبیه ده رسول او اُمتیانوته په باره دَ حکم بما انزل اللّٰه کښ چه دَ یهودواونصاریٰ اونورعلماء سوء دَ مکرونواوتلبیساتواوتدلیساتونه ځان بچ ساتئے ﴿فَاعْلَمْ اَنَّمَا يُرِيْدُ اللّٰهُ﴾ پدے کښ تصریح ده چه دَحکم بما انزل اللّٰه نه مخ اړول سبب دَ عذاب دے ﴿لَفٰسِقُوْنَ﴾ دلته خاص فسق ته اشاره ده چه هغه دَ قرآن دَ تحکیم نه مخ اړول دی۔

[٥٠] دا متعلق دے دَ تَوَلَّوْا سره یا دَ الفاسقون سره په تقدیردَ عطف یعنی(اَيَتَوَلَّوْنَ عن حكم اللّٰه فحكم الجاهلية يبغون) (ایا دَ حکم دَاللّٰه تعالیٰ نه مخ اړوئ نوحکم دَجاهلیت غواړئ۔) حکم دَ جاهلیت: هرهغه

وقف لازم
وقف منزل مدنی
وقف غفران

النَّصٰرٰٓى اَوْلِيَآءَ ۘ بَعْضُهُمْ اَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ؕ وَمَنْ يَّتَوَلَّهُمْ مِّنْكُمْ فَاِنَّهٗ مِنْهُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِى
الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ۝٥١ فَتَرَى الَّذِيْنَ فِىْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ يُّسَارِعُوْنَ فِيْهِمْ يَقُوْلُوْنَ نَخْشٰٓى اَنْ تُصِيْبَنَا
دَآئِرَةٌ ؕ فَعَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّاْتِىَ بِالْفَتْحِ اَوْ اَمْرٍ مِّنْ عِنْدِهٖ فَيُصْبِحُوْا عَلٰى مَآ اَسَرُّوْا فِىْٓ اَنْفُسِهِمْ
نٰدِمِيْنَ ۝٥٢ وَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَهٰٓؤُلَآءِ الَّذِيْنَ اَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ جَهْدَ اَيْمَانِهِمْ ۙ اِنَّهُمْ لَمَعَكُمْ ؕ

عیسایان دوستان، بعضے دَ دوی یوشان دی (دَ کفر په کارونوکښ) دَ بعضوسره اوچاچه دوستانه اوکړه دوی سره ستاسونه پس یقیناً دے دَ هغوینه دے یقیناً اللّٰه تعالیٰ توفیق نه ورکوی قوم عنادیانوته (۵۱) پس وینے به ته هغه کسان چه په زړونودَ هغوی کښ مرض دے جلتی کوی په دوستانه دَ دوی کښ وائی دوی یریږو مونږ چه اوبه رسی مونږته څه حادثه، پس نزدے ده چه اللّٰه تعالیٰ به راولی فتح یابل شے دَ خپل طرفنه پس شی به دوی په هغه څه چه دوی پټ ساتلے په زړونوخپلوکښ (دوستانه دَکافرانوسره) پښیمانه (۵۲) او اوبه وائی مؤمنان: آیا داهغه کسان دی چه قسمونه ئے کړی دی په اللّٰه تعالیٰ پابنه قسمونه خپل یقیناً دوی خامخا ستاسو ملګری دی

حکم دے چه خلاف وی دَحکم دَاللّٰه تعالیٰ نه لکه چه په یهودوکښ فرق وؤپه حدود وکښ په مینځ دَ مالدار اوغریب کښ دا رنګ دَ قرطبی په تحقیق سره هغه انسان هم داخل دے چه په اولادکښ فرق کوی بعضوته څه ځیزاوبخی اوبعضے محروم کړی اوهغے ته په حدیث کښ جور وئیلے شوے دے۔

[۵۱] دَ دے ایت نه دَ دویمے حصے دویم باب دے تر(٦٦) پورے پدے کښ نهی ده دَ موالات دَ یهود و اونصاریٰ نه اودا دَعقودودَمؤمنانواُوم عقد دے بیا زجردے په منافقانوچه دَ دے عقدنه خلاف کوی، ربط دَ دے ایت دَ مخکے سره دا دے چه هر کله نبی ته حکم دَ حذراوشودَ یهود اونصاریٰ نه په یره دَ افتنان سره نوعامومؤمنانوته ضرورامردے دَ اجتناب دَ هغوی نه دے دپاره چه ګمراه نه شی ـ دارنګ یهود او نصاریٰ هغه خلق دی چه حکم دَجاهلیت غواړی نودَ هغوی نه دَ برائت حکم کوی ﴿يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا﴾ دا صفت دَ ایمان دَ ترك موالاة تقاضاکوی دَ یهودواونصاریٰ نه ﴿اَوْلِيَآءَ﴾ اوداسے حکم دَعامو کافرانوپه باره کښ په سورة العمران(۲۸) کښ هم دے﴿بَعْضُهُمْ اَوْلِيَآءُ بَعْضٍ﴾دا علت دَمخکے دپاره دے اودَ هغوی موالات په معنیٰ دَ امدادکولودے دَیوبل سره په مقابله دَ مسلمانانوکښ اودا رنګ موالات دَ هغوی په معنیٰ دَمشابهت دے دَ یوبل سره په کارونودَکفرکښ اګرچه دَ هغوی دَ یوبل سره دُشمنی هم شته په دلیل دَ سورة بقره (۱۱۳) کښ تیرشوے دے او دَ دے ایت نه دا مسئله اخستلے شویده چه (الکفرملة واحدة)﴿وَمَنْ يَّتَوَلَّهُمْ مِّنْكُمْ﴾ او دَ دے نه ماخوذ دے دا حدیث من تشبه بقوم فهومنهم اومراد دَ دے نه تشبه ده په امورو دَ دین دَهغوی کښ۔

[۵۲] دا زجردے منافقانوته په مخالفت کولودَ مخکنی عقد سره اودَهغوی بهانه ذکرکوی اوبیا دَ هغے جواب ﴿مَرَضٌ﴾ شك اونفاق اومحبت دَکافرانوسره ﴿يُسَارِعُوْنَ فِيْهِمْ﴾ یعنی فی موالاتهم(دَ دوی په دوستانه کولوکښ)مسارعت ئے ورته ځکه اُوئیلوچه دوی په ضررد دے موالات کښ سوچ نه کوی په بے فکرئ سره داکارکوی ﴿يَقُوْلُوْنَ﴾ دا دَ منافقانوبهانه ده ﴿دَآئِرَةٌ﴾ هرهغه مصیبت چه په ګردش دَ زمانه

حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ فَاَصْبَحُوْا خٰسِرِيْنَ ﴿٥٣﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَنْ يَّرْتَدَّ مِنْكُمْ عَنْ دِيْنِهٖ
فَسَوْفَ يَاْتِى اللّٰهُ بِقَوْمٍ يُّحِبُّهُمْ وَ يُحِبُّوْنَهٗۤ ۙ اَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ اَعِزَّةٍ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ۫
يُجَاهِدُوْنَ فِىْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَلَا يَخَافُوْنَ لَوْمَةَ لَآئِمٍ ؕ ذٰلِكَ فَضْلُ اللّٰهِ يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَآءُ ؕ
وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ﴿٥٤﴾ اِنَّمَا وَلِيُّكُمُ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوا الَّذِيْنَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَ

برباد دی عملونه دَ دوی پس شول دوی تاوان والا (٥٣) اے ایمان والو: څوك چه مرتد شوستاسونه دَ
دین خپل نه (په دوستانه دَکافرانوسره) پس زردے را به ولی اللّٰه تعالیٰ داسے قوم چه مینه به کوی اللّٰه
تعالیٰ دَ هغوی سره اودوی به مینه کوی دَ اللّٰه تعالیٰ سره نرم به وی په مؤمنانوباندے اوسخت به وی په
کافرانوباندے جهاد به کوی په لاردَ اللّٰه تعالیٰ کښ اونه به یریږی دَ ملامتیا دَ ملامت کړنه۔ دا فضل دَ
اللّٰه تعالیٰ دے ورکوی چه چاته اوغواړی اواللّٰه تعالیٰ فراخ فضل والادے پوهه دے په هرڅه باندے(٥٤)
یقیناً دَ دوستانے لائق ستاسواللّٰه تعالیٰ دے او رسول دَ هغه دے اوهغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے هغه
مؤمنان چه پابندی کوی دَمانځه او

کښ پیداکیږی مراد دَ دے غلبه دَکافرانواو کمزوری دَ مؤمنانوده اودا رنګ قحط اولوګه ده وائی چه دوی
به مونږله بیا غله اوامداد نه راکوی﴿بِالْفَتْحِ﴾ دَ فتح نه مرادغلبه دَ اهل اسلام ده په کافرانو باندے ﴿اَوْ اَمْرٍ مِّنْ
عِنْدِهٖ﴾ فراخی دَ رزق دَ مؤمنانویا بنکاره کول دَ رازونودَ منافقانو﴿فَيُصْبِحُوْا﴾ تعبیرپه اصباح سره دَ دے
وجے نه دے چه مخکے حالت دَ منافقانوپشان دَ تیارے دے اوپه تیارے پسے رنږا پشان د صباح راغله اوپه
رنږاکښ به دوی ته خپل نقصان بنکاره شی نوبښیمانه به شی په دوستانه دَ یهود اونصاریٰ باندے۔

[٥٣] دا قول دَمؤمنانوپه طریقه دَ تعجب سره دے روستودَ بنکاره کیدلودَحال دَمنافقانونه ﴿جَهْدَ
اَيْمَانِهِمْ﴾ قسم کول په اللّٰه تعالیٰ باندے دَ مشرکانو(منافقانو) په نیزپوخ قسم وی اوپه غیراللّٰه باندے قسم
دَ دوی عادهٔ وی﴿خٰسِرِيْنَ﴾ دا دَ ندامت نه ترڅی ده ځکه ندامت خوصرف په فوت کیدلودَ مطلوب
دُنیوی سره وؤاوخسران په نقصان دَ دُنیا اودَ اخرت دواړو سره دے چه سرهٔ دَشرم نه په دُنیاکښ عملونه ئے
هم برباد شول۔

[٥٤] په دے ایت کښ تسلی ده مؤمنانوته په وخت دَ بنکاره کیدلودَ منافقانوکښ اودَ موالات کولودَ
هغوی دَکافرانو سره او اشاره ده لکه چه په دائره (حادثه) رسیدلوسره مؤمنانوته اودین اسلام ته هیڅ
نقصان نه رسیږی نودا رنګ که یوانسان بنکاره مرتد شی نوهم دین او اهل دین ته هیڅ نقصان نه رسیږی
بلکه اللّٰه تعالیٰ دَ دین دَ حفاظت دپاره نورخلق پیداکوی ﴿مَنْ يَّرْتَدَّ مِنْكُمْ عَنْ دِيْنِهٖ﴾ په سبب دَ ولایت
کولودَ یهود اونصاریٰ سره یا په بله طریقه سره کفراوکړی روستودَ ایمان بنکاره کولونه او دَ من یرتد
جزاء پته ده یعنی فلا یضر الانفسه، او﴿فَسَوْفَ يَاْتِى اللّٰهُ بِقَوْمٍ﴾ نه صحابه کرام﷢ مراد دی﴿يُحِبُّهُمْ
وَيُحِبُّوْنَهٗ﴾ مذهب دَ سلف صالحینودا دے چه محبت اللّٰه تعالیٰ لره ثابت دے حقیقةً بغیردَکیف اودَ تاویل
اودَ تمثیل نه ﴿اَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ﴾ دا دَ ذَلّ مقابل دے اودَ عزت نه ماخوذ ندے بلکه ذلة په معنیٰ دَ نرمئی
اوشفقت اورحم سره دے په قرینه دَ دے چه دوی له ئے عزت په روستوجمله کښ ثابت کړے دے اوداپشان

يُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَهُمْ رٰكِعُوْنَ ﴿٥٥﴾ وَمَنْ يَّتَوَلَّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا فَاِنَّ حِزْبَ
اللّٰهِ هُمُ الْغٰلِبُوْنَ ﴿٥٦﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوا الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا دِيْنَكُمْ هُزُوًا وَّلَعِبًا
مِّنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَالْكُفَّارَ اَوْلِيَآءَ ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿٥٧﴾
وَاِذَا نَادَيْتُمْ اِلَى الصَّلٰوةِ اتَّخَذُوْهَا هُزُوًا وَّلَعِبًا ۭ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَعْقِلُوْنَ ﴿٥٨﴾ قُلْ

ع ۱۲

ورکوی زکوٰة اودوی رکوع کؤونکی دی اللّٰه تعالیٰ ته (۵۵) اوچاچه دوستانه اوکړه دَ اللّٰه تعالیٰ سره او دَ رسول دَ هغه سره اومؤمنانوسره پس یقیناً ډله دَ اللّٰه تعالیٰ دوی غالب دی (۵۶) اے ایمان والو: مه نیسئے هغه کسان چه ګنړی دین ستاسو ټوقے اولوبے دَ هغه کسانونه چه ورکړے شوے دے ورته کتاب مخکے ستاسونه او (نورو) کافرانولره دوستان، او اویریږئ دَ اللّٰه تعالیٰ نه که تاسویئ مؤمنان (۵۷) اوکله چه اواز اوکړئے تاسو مانځه ته اونیسی دوی هغه لره ټوقے اولوبے داپه دے سبب چه دوی داسے قوم دی چه عقل نه لری (۵۸) اُوایه

دَ سورة فتح(۲۹)دے ﴿اَعِزَّةٍ﴾ دا دَعزت په معنیٰ دَ شدت نه ماخوذ دے ﴿وَلَا يَخَافُوْنَ لَوْمَةَ لَآئِمٍ﴾ داحال دے دَ ضمیردَ یجاهدون نه او واودپاره دَ حال دے یعنی په حال دَ جهادکښ که قولی وی اوکه عملی وی اونکره ئیے ذکرکړے ده اشاره ده چه په هیڅ قسم ملامتیا دَ هیڅ قسم ملامت ګر دَ طرف نه پرواه نه کوی که والدین وی، که استاد وی، که مشر وی یاکشر وی وغیره۔

[۵۵] هرکله چه دَ موالات دَ یهودو اونصاریٰ نه منع اوشوه اودَ برائت کوؤنکوصفتونه ئیے ذکرکړل نو پدے ایت کښ اهل دَ ولایت ذکرکوی په طریقه دَ حصرسره په لفظ دَانما دپاره دَ دے چه دَ دے مذکورنه تعدّی اونکړے شی ﴿الَّذِيْنَ يُقِيْمُوْنَ﴾ دَ ایمان سره درے اوصاف ئیے ذکرکړل اشاره ده چه کوم مؤمن کښ دا صفتونه ټول یا بعضے موجودنه وی نودَ هغه سره ولایت مه کوئ ﴿وَهُمْ رَاكِعُوْنَ﴾ دا صفت همیشه اودائم دے دَ دے وجے نه په جمله اسمیه سره ئیے ذکرکړے دے (تنبیه) بعضے مفسرینو وئیلی دی چه دا حال دے دَ ضمیردَ یؤتون نه او دَ دے په تائیدکښ ئے آثارد علی ﷺ نقل کړی دی لیکن ابن کثیر وئیلی دی چه هیڅا دَ علماؤنه دا نه دی وئیلی چه زکوٰة ورکول په حال دَ رکوع کښ افضل دی۔

[۵۶] دا بشارت دے دپاره دَ اهل دَ ایت مخکنی ﴿يَتَوَلَّ اللّٰهَ﴾ مراد دَ تولاّنه قیام په طاعت دَ اللّٰه تعالیٰ اوپه نصرت دَ رسول او دَ مؤمنانو دے ﴿فَاِنَّ حِزْبَ اللّٰهِ﴾ حزب په اصل کښ هغه قوم ته وئیلے شی چه راجمع شی په وخت دَ راتللودَ حادثه کښ اوهغه جماعت ته وئیلے شی چه کلك وی نودا دَ جماعت اودَ قوم نه خاص دے۔

[۵۷] دَ دے ایت نه شروع کوی په ذکردَ علتونودَ منع دَ موالاة دَکافرانونه په دے ایت کښ اول علت ذکرکوی یعنی دین اسلام پورے استهزاء او هغه لعب ګنړل ﴿هُزُوًا وَّلَعِبًا﴾ هزء په اصل کښ خِفت ته وئیلے شی یعنی سپك والے کوی په طریقه دَ مسخرواوخنداکولواولعب معنیٰ داچه بے فائدے مشغله ئے ګنړی پشان دَ لوبوکولونومراد مجموعه ده چه ټول دین پورے استهزاء اولعب کوی ﴿مِنَ الَّذِيْنَ﴾ دا بیان دے دَ مخکے الذین په ذکردَ فریقینو دَکافرانوسره۔

[۵۸] دا معطوف دے په مخکے اتخذوا باندے اودا ذکردَ دویم علت دے اودا خاص دے دَ مخکے نه

يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ هَلْ تَنْقِمُوْنَ مِنَّآ اِلَّآ اَنْ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَمَآ اُنْزِلَ اِلَيْنَا وَمَآ اُنْزِلَ مِنْ قَبْلُ ۙ وَاَنَّ اَكْثَرَكُمْ فٰسِقُوْنَ ﴿٥٩﴾ قُلْ هَلْ اُنَبِّئُكُمْ بِشَرٍّ مِّنْ ذٰلِكَ مَثُوْبَةً عِنْدَ اللّٰهِ ؕ مَنْ لَّعَنَهُ اللّٰهُ وَغَضِبَ عَلَيْهِ وَجَعَلَ مِنْهُمُ الْقِرَدَةَ وَالْخَنَازِيْرَ وَعَبَدَ الطَّاغُوْتَ ؕ اُولٰٓئِكَ شَرٌّ مَّكَانًا وَّاَضَلُّ عَنْ سَوَآءِ السَّبِيْلِ ﴿٦٠﴾ وَاِذَا جَآءُوْكُمْ قَالُوْٓا اٰمَنَّا وَقَدْ دَّخَلُوْا بِالْكُفْرِ

اے کتاب والو! بدنه ګنړئ تاسوځمونږنه مګرداچه ایمان راوړے دے مونږپه اللّٰه تعالیٰ اوپه هغه کتاب چه نازل کړے شوے دے مونږته اوپه هغه کتابونو چه نازل کړی دی مخکښے اودَ دے وجے چه اکثر ستاسو نه نافرمان دی (٥٩) اُوایه؛ آیاخبردرکړم تاسوته په ډیرناکاره سره دَ دینه په اعتباردَ بدلے په نیز دَ اللّٰه تعالیٰ هغه څوك چه لعنت کړے دے په هغه اللّٰه تعالیٰ اوغضب ئے کړے دے په دهٔ باندے اوجوړ کړی دی دَ دوینه شادوګان اوخنزیران او هغه څوك چه بندګی ئے کړی وی دَ طاغوت، دغه کسان ډیرناکاره دی په اعتباردَ مرتبے او ډیر اوړیدلی دی دَ برابرلارے نه (٦٠) اوکله چه راشی دوی تاسوته دوی وائی ایمان راوړے دے مونږ اوحال دا چه دوی داخل شوی دی په کفرسره

﴿وَاِذَا نَادَيْتُمْ اِلَى الصَّلٰوةِ﴾ دا ایت دلیل دے په مشروعیت دَ اذان سره دپاره دَ ټولوپنځه مونځونو ﴿اتَّخَذُوْهَا هُزُوًا وَّلَعِبًا﴾ څوك وائي دا چغے دی پشان دَ حیواناتو، څوك دَ دے نه تیخته کوی پشان دَ شیطان، څوك پدے دعوت باندے عمل نه کوی یعنی جماعت ته حاضری نه کوی ﴿لَا يَعْقِلُوْنَ﴾ نه پوهیږی په مقصد دَ دے کلماتواوکلمات دَ اذان مشتمل دی په کبریا دَ اللّٰه تعالیٰ چه هغه توحید دے اوهرکله چه شهادت دپاره دوه کسان پکاردی نو دوه دوه کرته شهادت اداکیږی۔

[٥٩] په دے ایت کښ دریم علت ذکر دے چه ستاسو مونږ سره صرف په ایمان او په دین باندے دُشمنی ده نو تاسو سره مونږ هیڅ موالات نه شوکولے او دا رنګ دا ایت علت دَ ماقبل ایت دپاره دے یعنی استهزاء په اذان پورے په سبب دَ نفرت سره دَتوحیدنه اواذان خواعلان دَ توحید دے ﴿هَلْ تَنْقِمُوْنَ مِنَّآ اِلَّآ اَنْ﴾ نقم خفګان کول، بدګنړل، نفرت کول، عیب ګنړل، او سبب دَ نقمت ئے صرف ایمان ذکرکړے دے اشاره ده چه دَ کافرانو مشرکانو دُشمنی دَ مؤمنانوسره صرف په مسئله دَ توحید ده دا رنګ اعراف ١٢٦ کښ هم دی۔

[٦٠] په دے ایت کښ ذکر دَ څلورم علت دَ ترك موالات دے (یعنی دین توحید اومؤحدینوته شروالا وئیل سرهٔ دَ دے چه پدویکښ ډیرشرونه دی) اومخکے نقمت علت باطنی وؤاودا (شروئیل) علت ظاهری دے، اودا جواب دے دَ قول دَکتابیانو کافرانوهغوی وئیلی وو(لانعلم دینا شرامن دینکم) (مونږته ستاسودَ دین نه زیات شروالادین بل نه دے معلوم)﴿مَثُوْبَةً﴾ (سوال) مثوبة خوپه جزا دَ خیرکښ استعمالیږی نودلته ئے دَ شرسره ولے ذکرکړه؟ (جواب) دا په طریقه دَ تهکم یعنی استهزاء کولو په کافرانوپورے دے لکه پدے قول دَ اللّٰه تعالیٰ کښ فبشرهم بعذاب الیم ﴿مَنْ لَّعَنَهُ اللّٰهُ﴾ دا بدل دے دَ من ذالك نه په تقدیردَ مضاف سره یعنی دین من لعنه اللّٰه اه ځکه چه بحث په باره دَ دین کښ دے اوپه دے اضافت کښ اشاره ده سببیت ته یعنی دین دَ هغه چاچه لعنت شویدے په هغوی باندے په سبب دَ دغه دین اوپدے کښ مراد هغه ګناهونه دی چه سبب دَ لعنت ګرځولے شویدی په قرآن کښ لکه کتمان حق وغیره ﴿وَجَعَلَ مِنْهُمُ الْقِرَدَةَ وَالْخَنَازِيْرَ﴾ یعنی

وَهُمْ قَدْ خَرَجُوْا بِهٖ ؕ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا كَانُوْا يَكْتُمُوْنَ ﴿٦١﴾ وَتَرٰى كَثِيْرًا مِّنْهُمْ يُسَارِعُوْنَ فِى
الْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَاَكْلِهِمُ السُّحْتَ ؕ لَبِئْسَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿٦٢﴾ لَوْلَا يَنْهٰهُمُ الرَّبّٰنِيُّوْنَ وَالْاَحْبَارُ عَنْ
قَوْلِهِمُ الْاِثْمَ وَاَكْلِهِمُ السُّحْتَ ؕ لَبِئْسَ مَا كَانُوْا يَصْنَعُوْنَ ﴿٦٣﴾ وَقَالَتِ الْيَهُوْدُ يَدُ اللّٰهِ مَغْلُوْلَةٌ ؕ غُلَّتْ
اَيْدِيْهِمْ وَلُعِنُوْا بِمَا قَالُوْا ۘ بَلْ يَدٰهُ مَبْسُوْطَتٰنِ ۙ يُنْفِقُ كَيْفَ يَشَآءُ ؕ وَلَيَزِيْدَنَّ كَثِيْرًا مِّنْهُمْ مَّآ
اُنْزِلَ اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ طُغْيَانًا وَّكُفْرًا ؕ وَاَلْقَيْنَا بَيْنَهُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَآءَ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ ؕ كُلَّمَآ

او دوی وتلی دی په کفرسره او الله تعالی ښه پوهه دے په هغه څه چه دوی پټوی (٦١) او وینے ته ډیرو لره دَ دوینه چه جلتی کوی په ګناه کښ اوظلم کښ او په خورلودَ دوی دَ حرامو کښ خامخا بد دی هغه عملونه چه دوی ئیے کوی (٦٢) ولے نه منع کؤل دوی لره پیرانواوعلماؤ دَ وینا دَ دوی دَګناه نه او دَ خورلو دَ دوی دَ حرامونه خامخا بد دے هغه کار چه دوی ئے کوی (٦٣) او وائی یهودیان لاس دَ الله تعالی بندکړے شوی دی بندکړے شوی دی لاسونه دَ دوی اولعنت کړے شوے دے په دوی په سبب دَ هغه چه دوی وائی بلکه دواړه لاس دَ الله تعالی فراخ دی خرچ کوی څرنګ چه اوغواړی اوخامخا زیاتی کوی ډیرو لره دَ دوینه هغه کتاب چه نازل کړے شوے دے تاته دَ رب دَ طرف نه سرکشی او کفر او اچولے ده مونږ په مینځ دَ دوی کښ دُشمنی او کینه تروړغ دَ قیامت پورے هروخت

هغه دین چه سبب دَ مسخ ګرځولے شویدے پدیکښ دَ مفسرینو قول دا دے چه اصحاب السبت کښ مسخ دَ قردة په شکل سره وه اوپه اصحاب مائده په زمانه دَعیسیٰ علیه السلام کښ مسخ په شکل دخنازیروسره وه ﴿وَعَبَدَ الطَّاغُوْتَ﴾ یعنی دین مَن عبد الطاغوت اوطاغوت کښ عبادة العجل اواطاعت دَکاهنانواوهر اطاعت چه په معصیت دَ الله تعالی کښ وی داخل دے اودا ټول کارونه په بنی اسرائیلو کښ موجود شوی وؤ ﴿شَرٌّ مَّكَانًا﴾ مکان دَ دوی په اخرت کښ اوردَ جهنم دے یا مکان په معنیٰ دَمکانت سره دے حالت دَ دوی که په دُنیا کښ وی اوکه په اخرت کښ۔

[٦١] په دے ایت کښ پنځم علت ذکرکوی اوپه دے کښ تفصیل دے دَ دے قول چه شر او اضل او په دے کښ هغه یهود مراد دی چه تلبیس دَمؤمنانودپاره ئیے داسے کارکوؤ ﴿وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا كَانُوْا يَكْتُمُوْنَ﴾ اشاره ده چه په زړونو دَ دوی کښ دومره ضلال اوشردے چه ستاسودَ علم نه هغه بهردے۔

[٦٢] داهم دلیل دے دَ شراودَ ضلال دَ دوی اوپدے کښ شپږم علت ذکرکوی ﴿وَتَرٰى﴾ دا دلیل دے چه دا عمل دَ ګمراهئی دَ دوی هرچاته ښکاره دے ﴿الْاِثْمِ﴾ مراد دَ دے اقوال دَګناه دی لکه قول دَ اتخاذ الولداوحلول اوتثلیث ﴿وَالْعُدْوَانِ﴾ عملونه دَ ظلم قتل دَ انبیاؤ اودَ حق پرستوخلقو اوتحریف کول۔ ﴿السُّحْتَ﴾ مالونه دَ امیانو خورل ﴿يُسَارِعُوْنَ﴾ مسارعت نه مراد دا دے چه بغیر دَ سوچ او فکردَ عاقبت نه داکارونه کوی۔

[٦٣] په دے کښ ذکردَ اووم علت دے اودا جدا قسم ګمراهی ده اوصرف دَ غټو ملایانو عمل دے۔ ﴿الرَّبّٰنِيُّوْنَ﴾ دلته مراد رهبان دَ نصاریٰ دی یاهغه خلق چه دعوے کوی دَ خدایرستیؤ که یهودوی اوکه

اَوْقَدُوْا نَارًا لِّلْحَرْبِ اَطْفَاَهَا اللّٰهُ ۙ وَيَسْعَوْنَ فِي الْاَرْضِ فَسَادًا ؕ وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ الْمُفْسِدِيْنَ ﴿٦٤﴾

چه بل کړی دوی اورد پاره دَ جنګ مړکړی هغے لره اللّٰه تعالیٰ او کوشش کوی دوی په ځمکه کښ دَ فساد او اللّٰه تعالیٰ نه خوښوی فساد کژونکی (٦٤)

نصاریٰ وی ﴿لَبِئْسَ مَا كَانُوْا يَصْنَعُوْنَ﴾ قرطبی وئیلی دی دا دلیل دے چه پریخودو نکے دَ نهی عن المنکر پشان دَکوژونکی دمنکردے دا رنګ اشاره ده چه نهی عن المنکر مستقله فریضه ده په نسبت دَ امر بالمعروف نویودَ بل په ځائے نه کا فیکیږی۔

[٦٤] په دے ایت کښ ذکردَ اتم اونهم اولسم علتونودے (وقالت الیهود اه ٨) (کلما اوقدوا نارا اه ٩) (ویسعون فی الارض اه ١٠) ﴿يَدُ اللّٰهِ مَغْلُوْلَةٌ﴾ داکنایه ده دَ قبض اودَ بخل نه اودا قول دَ دوی ډیره بے عزتی اوسب اوشتم دے اللّٰه تعالیٰ ته اودَ دے سبب دَ ابن عباس رضی اللّٰه عنهما نه نقل دے چه یهود علماء اوعوام ښه په وسعت دُنیوی کښ وؤدَعلماؤبه دَ عاموډ طرف نه دَ دین په وجے سره قِسم قِسم آمدنئے وے اوعاموهم دَ حلال اوحرام فرق نه کوؤ۔هرکله چه نبی ﷺ مدینے ته هجرت اوکړو اوهلته دین اسلام خورشواوغالب شونودَ دوی آمدنئے کمے شوے ځکه چه اکثرخلق دَ دوی نه جدا شول اومسلمانان شول نودوی (دَ خپلے غلطئے اظهار نه کوؤ) وئیل ئیے چه دَ اللّٰه تعالیٰ لاس زمونږنه بند شول اوهغه بخل شروع کړو لکه چه دوی دَ فقرنسبت هم اللّٰه تعالیٰ ته کوؤسورة العمران (١٨١) ﴿غُلَّتْ اَيْدِيْهِمْ﴾ داجمله دُعائیه ده په طریقه دَ تعلیم سره دَ طرف دَ اللّٰه تعالیٰ نه نیکانو بندګانو ته په وخت دَ دغه قول دَ یهودیانو کښ، او دا دُعا مستجابه ده په آخرت کښ چه دَ دوی لاسونه به ځټهونو سره ترلے شوی وی اودارنګ په دُنیاکښ په اعتباردَ معنیٰ ظاهری سره اګرچه کله کله په بعضے کسانو کښ وی چه په دُنیاکښ مسلمانان په دوی باندے غالب شی نوقید ئیے کړی ﴿وَلُعِنُوْا بِمَا قَالُوْا﴾ اثار دَ لعنت خوپه یهودیانوباندے ډیرښکاره شویدی اوپه آئنده کښ به هم آثارښکاره کیږی اوقول نه مراد لفظ مغلولة دے ﴿بَلْ يَدٰهُ مَبْسُوْطَتٰنِ يُنْفِقُ كَيْفَ يَشَآءُ﴾ دارد دے دَ قول دَ هغوی چه مغلولة دے ځکه چه مبسوطتان په مقابل دَ مغلولة کښ دے اوثبات دَ ید په ډیرو ایاتونو او احادیثو کښ دے، ابن عبدالبرپه شرح دَموطاکښ وئیلی دی چه دَاهل السنة اجماع ده چه آیاتونه اواحادیث دَ صفاتودَ اللّٰه تعالیٰ باندے اقراراوایمان راوړل اوپه حقیقت باندے حمل کول بغیرد تکییف اوتشبیه نه ضروری دی اودَ دے نه انکارکول او تاویل اوتشبیه کول مذهب دَ مبتد عینو(جهمیه، معتزلو) دے اوامام ابوحنیفهؒ نه په فقه اکبراودَ هغے په شرح کښ دا مذهب نقل دے چه تاویل دَ دے په قدرت سره نشی کیدلے ﴿يُنْفِقُ كَيْفَ يَشَآءُ﴾ تائید دے دَ مقصد دَ مبسوطتان، اشاره ده چه انفاق دَخپل حکمت موافق کوی په هغه باندے اعتراض نشی کیدلے ﴿مَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ طُغْيَانًا وَّكُفْرًا﴾ په دے کښ نسبت قرآن ته نسبت سببیه دے لکه په سورة توبه ١٢٥ اوسورة اسراء٨٢ کښ دی یعنی دوی خودَ مخکے نه په طغیان اوکفرکښ اخته دی خو څومره چه دَ قرآن یویو ایت یاسورت نازل شی او دویته بیان شی نو دوی دَ هغے نه هم انکار اوکړی نوطغیان او کفرئیے په دے طریقے سره زیاتیږی طغیان دَ حدنه تجاوزکول دی اوهغه رسوؤنکے وی کفرته دَ دے وجے نه ورپسے کفرا ذکر کړو ﴿وَاَلْقَيْنَا بَيْنَهُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَآءَ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ﴾ یعنی په مینځ دَیهودو اونصاریٰ کښ بغض اودُشمنی ده په سبب دَ اختلاف

وَلَوْ اَنَّ اَهْلَ الْكِتٰبِ اٰمَنُوْا وَاتَّقَوْا لَكَفَّرْنَا عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ وَلَاَدْخَلْنٰهُمْ جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ﴿٦٥﴾ وَلَوْ اَنَّهُمْ
اَقَامُوا التَّوْرٰىةَ وَالْاِنْجِيْلَ وَمَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِمْ مِّنْ رَّبِّهِمْ لَاَكَلُوْا مِنْ فَوْقِهِمْ وَمِنْ تَحْتِ اَرْجُلِهِمْ ؕ
مِنْهُمْ اُمَّةٌ مُّقْتَصِدَةٌ ؕ وَكَثِيْرٌ مِّنْهُمْ سَآءَ مَا يَعْمَلُوْنَ ﴿٦٦﴾ يٰٓاَيُّهَا الرَّسُوْلُ بَلِّغْ مَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ ع ١٠
مِنْ رَّبِّكَ ؕ وَاِنْ لَّمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهٗ ؕ وَاللّٰهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِى

اوکه چرے کتاب والو: ایمان راوړے وے اوځان ئے بچ کړے وے دَ ګناهونونه خامخا لرے به کړو مونږ دَ دوینه بدئ دَ دوی اوخامخا داخل به کړو مونږ دوی جنتونودَ نعمتونوته(٦٥) اوکه دے خلقوعمل اوکړو په تورات اوپه انجیل اوپه هغه کتاب چه نازل کړے شوے دے دویته دَ طرف دَ رب دَ دوینه خامخا خوراك به کړے وے دوی پورته دَ دوینه اولاندے دَ خپودَ دوینه بعضے دَ دوینه ډله حق پرسته ده او ډیرد دوینه بد دی هغه عملونه چه دوی کوی(٦٦) اے رسوله: اورسوه ټول هغه چه نازل کړے شوے دے تاته دَ طرف دَ رب ستانه، اوکه تا داسے او نه کړو پس نه دے رسولے تاهیځ پیغام دَ هغه، اوالله تعالی بچ کوی تاله دَ خلقونه، یقیناً الله تعالی قدرت نه ورکوی (ستاپه وژلو)

اوتفرق دَ دین سره (سوال)په١٥ کښ تیرشول چه د دوی په مینځ کښ ولایت (دوستانه) ده؟ (جواب) هلته وَلایت په معنیٰ دَ مشابهت دے په کارونودَکفرکښ۔ اوامدادکول دَ یوبل سره په مقابله دَ مؤمنانوکښ۔ اګرچه کورنئی کښ بُغض اوعداوت دے۔ اودَ هغوی ذکردپاره دَ عبرت دَ مؤمنانودے، عداوة بسکاره دُشمنی اوبغضاء پټه دَ زړه کینه اوبغض۔ دَ یوم القیامة نه مراد قرب (نزدے وخت) دَ قیامت مراد دے ﴿نَارًا لِّلْحَرْبِ﴾ نه مراد اسباب دَ جنګ اومکرونه اوکیدونه دَ هغے دی ﴿اَطْفَاَهَا اللّٰهُ﴾ کنایه ده چه الله تعالیٰ دَ دوی شرپه څه طریقه باندے دفع کوی مسلمانانو له غلبه ورکړی اودَ دوی په زړونوکښ رعب واچوی۔ اشاره ده چه دوی اُحد اواحزاب وغیره کښ دَ مسلمانانوخلاف کیدونه کړی وۅلیکن ناکام او ذلیل شول﴿وَيَسْعَوْنَ فِي الْاَرْضِ فَسَادًا﴾ دَ دین اسلام اوقرآن وسنت نه منع کول دَ خلقواودَ هغے مقابلے کول اودَ یهودیت اودَ نصرانیت اشاعت کول، دا ټول فساد فی الارض دے۔

[٦٥] روستودَ ذکردَ علتونودَ ترك موالاة نه دعوت دے هغوی ته دَ حق دین (چه ایمان اوتقویٰ ده) په طریقه دَ بشارت اُخرویه سره ﴿اٰمَنُوْا﴾ صحیح ایمان په الله تعالیٰ او په آخری رسول ﷺ ﴿وَاتَّقَوْا﴾ هغه کفریات اوعلتونه چه مخکے ایاتونو کښ ذکرشول دَ هغے نه ځان بچ کول﴿لَكَفَّرْنَاعَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ﴾ کښ دفع دَ عذاب ته اشاره ده اودَ سیاتهم نه ټول ګناهونه صغیره اوکبیره اوناکاره صفات مراد دی۔

[٦٦] دا دعوت په طریقه دَ بشارت دُنیویه دے اوپه دے ایت کښ دَ ایمان اوتقویٰ تعبیرئے په اقامت دَکتب الهیو سره ذکر کړوځکه چه اقامت دَکتب الهیه کښ ایمان اوتقویٰ داخل ده اوورسره دعوت اواجراء دَ قانون الهی هم مراد ده او دا روستنے چه دَ اول سره یوځائے شی نودُنیوی انعامات هم حاصلیږی دامضمون په نوروسورتونوکښ هم دے﴿اَقَامُوْا﴾ مراد دَ اقامت نه تصدیق اوعمل کول دی پخپله اودارنګ دَ هغے جاری کول په نوروخلقوکښ په طریقه دَ دعوت اوجهاد اوتحکیم سره (سوال) هرکله چه تورات اوانجیل منسوخ دی نو دَ څه وجے نه په دے کښ دَ هغوی دَ اقامت ذکراوشو؟ (جواب) مراد دَ

الْقَوْمَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿٦٤﴾ قُلْ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ لَسْتُمْ عَلٰى شَيْءٍ حَتّٰى تُقِيْمُوا التَّوْرٰىةَ وَالْاِنْجِيْلَ وَمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكُمْ مِّنْ رَّبِّكُمْ ؕ وَلَيَزِيْدَنَّ كَثِيْرًا مِّنْهُمْ مَّآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ طُغْيَانًا وَّكُفْرًا ۚ فَلَا تَاْسَ عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿٦٨﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَالَّذِيْنَ هَادُوْا وَالصّٰبِـُٔوْنَ وَالنَّصٰرٰى مَنْ اٰمَنَ

قوم کافرانوته (٦٧) اُوایه اے کتاب والونه یئ تاسو په هیڅ دین باندے ترهغے چه عمل اوکړئے تاسو په تورات او انجیل اوپه هغه چه نازل کړے شوے دے تاسوته ستاسودَ رب دَ طرف نه اوخامخا زیاتوی ډیرو لره دَ دوینه هغه کتاب چه نازل کړے شوے دے تاته ستا دَ رب دَ طرف نه سرکشی اوکفرپس مه خفه کیږه په قوم کافرانوباندے (٦٨) یقیناً هغه کسان چه مؤمنان دی اوهغه کسان چه یهودیان دی اوصابیان دی اونصاریٰ دی چاچه ایمان راوړو

هغے اقامت دے په وخت دَ نزول اودَ زمانے دَ هغوی کښ اودَ هغے نه روستوپه زمانه دَ نزول قرآن کښ اقامت صرف دَ قرآن مراد دے ﴿لَاَكَلُوْا مِنْ فَوْقِهِمْ وَمِنْ تَحْتِ اَرْجُلِهِمْ﴾ مراد دَ فوق نه وخت په وخت بارانونه دَخیراوبرکت دی، اومراد دَ تحت نه فصلونه، میوه جات وغیره دی ﴿مِنْهُمْ اُمَّةٌ مُّقْتَصِدَةٌ﴾ اقتصادپه عقیده اوپه عمل کښ دا دے چه افراط اوتفریط نه وی اوغلو پکښ هم نه وی۔

[٦٧] دَ دے ایت نه دریمه حصه ده دَ سورۃ دَ اختتام پورے په دے کښ دوه بابونه دی اول باب تر(٨٦) پورے دے په دے کښ اول خطاب دے رسول اللّٰه ﷺ ته اوتیزی ورکول دی په دعوت اوتبلیغ باندے اونصاب تبلیغ دے دپاره دَ نصاریٰ چه هغه پنځه مسائل دی په دے ایت کښ خطاب دے رسول ته په تاکید دَ دعوت اوتبلیغ سره په درے طریقوسره اول امر﴿بَلِّغْ مَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ﴾ اشاره ده چه نصاب دَ تبلیغ قرآن اوسنت دے مراد دَ دے نه تبلیغ دَ ټول ما انزل دے په جهراوزړه ورتیا سره اوبغیرد لحاظ دَ یوتن نه، اوتبلیغ په نبی باندے فرض عین دے اوپه اُمت باندے په مختلف مرتبواودرجاتوسره دے، دویمه طریقه ﴿وَاِنْ لَّمْ تَفْعَلْ﴾ نفی دَ دغه قیوداتومراد ده یعنی که تبلیغ دِاونکړو دَ ټول ما انزل اللّٰه اولحاظ دِ دبعض خلقواوکړو﴿فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهٗ﴾ یعنی ستارسالت قبول نه دے مسئله دِ صحیح نه ده رسولے ـ قرطبی وائی دا تادیب دے نبی ﷺ ته او نوروعلماؤ ته چه دَ ماانزل (شریعت) نه به هیڅ مسئله نه پټه وی، اوقرطبی وئیلی دی دا رد دے په روافضو (اللّٰه تعالیٰ دِ دوی اوشرموی) دوی وائي چه نبی ﷺ بعضے دَ وحی نه (تقیتاً) پټ ساتلی دی، کله وائي چه بعضے علمونه ئے علی ﷺ ته خاص بیان کړی دی (لعنة اللّٰه علی الکاذبین) نودا رنګ په دے کښ رد دے په مبتدعینو باندے﴿وَاللّٰهُ يَعْصِمُكَ﴾ دا دریمه طریقه ده دَتاکید یعنی په تبلیغ کښ هیڅ یره په تا باندے نیشته ځکه چه اللّٰه تعالیٰ ستا حفاظت کوی (سوال) نبی ﷺ ته په مکه کښ اوپه اُحدکښ اوپه نورواوقاتوکښ خوقسم قسم اذیتونه رسیدلی دی نودا وعده څنګه ده؟ (جواب) سورۃ مائده دَ دغه اذیتونونه روستونازل شویده۔ ﴿لَا يَهْدِيْ﴾ مراد دَ هدایت نه طاقت ورکول دَ قتل کولودَ نبی ﷺ دی۔

[٦٨] دا اوله مسئله ده دَ مسائلوتبلیغیونه اوتشریح ده دَ بَلِّغ ﴿لَسْتُمْ عَلٰى شَيْءٍ﴾ مراد دَ څیزنه هغه دے چه هغے ته اعتبار ورکیدے شی په دین کښ اوفائده مند وی۔ نودَ ډیرے مبالغے دَ وجے دَ مطلق شیئیت نه ئے اوباسی﴿حَتّٰى تُقِيْمُوا التَّوْرٰىةَ﴾ مخکے دَ اقامت فائده ذکرشویوه اودلته زورنه په عدم اقامت باندے ده اوپه

بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَعَمِلَ صَالِحًا فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿٦٩﴾ لَقَدْ اَخَذْنَا مِيْثَاقَ
بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ وَاَرْسَلْنَآ اِلَيْهِمْ رُسُلًا ؕ كُلَّمَا جَآءَهُمْ رَسُوْلٌۢ بِمَا لَا تَهْوٰٓى اَنْفُسُهُمْ ۙ فَرِيْقًا
كَذَّبُوْا وَفَرِيْقًا يَّقْتُلُوْنَ ﴿٧٠﴾ وَحَسِبُوْٓا اَلَّا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ فَعَمُوْا وَصَمُّوْا ثُمَّ تَابَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ

په الله تعالی اوپه ورځ روستنے او عمل ئے اوکړو په طریقه د نبی(ﷺ) پس نه به وی هیڅ یره په دوی باندے اونه به دوی غمژن کیږی (٦٩) یقیناً اغستے ده مونږ پخه وعده د بنی اسرائیلونه اولیګلی دی مونږدویته رسولان ډیرهروخت چه راغے دویته رسول په هغه خبره چه نه خوښوله نفسونودَ دوی یوه ډله د هغوی ئے دروغژن کړه او بله ډله دوی اووژله(٧٠) اوګمان اوکړو دوی چه نیشته مونږله څه عذاب (پدے عمل ځمونږ) پس رانده شول اوکانړه شول بیامهربانی اوکړه الله تعالی په دوی باندے

اقامت د ټولوکتابونوکښ توحید اوایمان په اخری رسول اوپه قرآن باندے داخل دے ﴿وَلَيَزِيْدَنَّ كَثِيْرًا مِّنْهُمْ﴾ په(٦٤)کښ دَکثیرنه مراد یهودیان وؤ، اودلته ټول اهل کتاب مراد دی بله داچه هلته طغیان اوکفرپه معنیٰ د ے ادبئی د الله تعالی وواودلته طغیان اوکفرنه تحریف اوکتمان په کتاب د الله تعالی کښ مراد دے یعنی دوی د اقامت په ځائے باندے کتمان، تحریف اوتغییرقائموی ﴿فَلَا تَاْسَ﴾ نودَ دوی په دے کفر باندے خفګان مه کوه یعنی د دے کفرد وجے نه په دوی باندے عذاب اوهلاکت راځی په هغے باندے خفګان مه ښکاره کوه۔

[٦٩] ربط د ایت دا دے چه مخکے د اقامة الکتب عظمت شان ذکرشواوس د هغے تفسیرکوی په ایمان صحیح اوعمل صالح سره او وائی چه سبب د نجات دے حاصل د ایت دا دے چه اقامت دَکتب الٰهیه صرف د نومونواونسبتونونه عبارت نه دے چه څوك وائي څه منسوب یم موسیٰ(ﷺ) ته دا نسبتونه به هله فائده ورکوی چه ایمان اوعمل صالح ورسره ملګرے شی ﴿مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ﴾ نودَ دے نه صرف دعوی دا ر د ایمان مراد دی لکه منافقان یا مطلق مؤمنان مراد دی ﴿فَلَاخَوْفٌ﴾ دا په جنت کښ مراد دے یعنی د عذاب نه به خوف نه وی اونه به په دُنیا پسے غم اوافسوس کوی۔

[٧٠] دا جواب د یوسوال دے یعنی اهل کتاب دعویٰ کوی چه مونږاقامة الکتب کړے دے ځکه چه ایمان اوعمل صالح لرونوپدے ایت کښ د هغے جواب ته اشاره ده چه تاسواقامة الکتب اوایمان اوعمل صالح نه دے کړے بلکه تاسودَ میثاق الٰهی مخالفت اوتکذیب اوقتل د رسولانوکړے دے، نوځرنګه دعویٰ د ایمان اوعمل صالح کوئے ﴿كُلَّمَا جَآءَهُمْ رَسُوْلٌ﴾ دا زجردے د بنی اسرائیلوپه نقض میثاق سره۔ ﴿بِمَا لَاتَهْوٰٓى اَنْفُسُهُمْ﴾ احکام شرعیه خوهمیشه د خواهشاتونفسانیونه خلاف وی اومشتمل وی په توحید اوسنت باندے ﴿يَقْتُلُوْنَ﴾ دا صریح دے چه بنی اسرائیلوپیرانبیاء علیهم السلام قتل کړی دی، او فعل مضارع هم د دے وجے نه ذکرکړے ده چه اوس هم ارادے لری چه قتل کړی آخری نبی لره۔

ثُمَّ عَمُوْا وَصَمُّوْا كَثِيْرٌ مِّنْهُمْ ؕ وَاللّٰهُ بَصِيْرٌۢ بِمَا يَعْمَلُوْنَ ﴿٧١﴾ لَقَدْ كَفَرَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْمَسِيْحُ ابْنُ مَرْيَمَ ؕ وَقَالَ الْمَسِيْحُ يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اعْبُدُوا اللّٰهَ رَبِّيْ وَرَبَّكُمْ ؕ اِنَّهٗ مَنْ يُّشْرِكْ بِاللّٰهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللّٰهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ وَمَاْوٰىهُ النَّارُ ؕ وَمَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ اَنْصَارٍ ﴿٧٢﴾ لَقَدْ كَفَرَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ ثَالِثُ ثَلٰثَةٍ ۘ وَمَا مِنْ اِلٰهٍ اِلَّآ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ؕ وَاِنْ لَّمْ

بیا راندہ شول او کانړه شول ډیرډ دوی نه۔ اوالله تعالیٰ وینی هغه عملونه چه دوی کوی (۷۱) یقیناً کفر کړے دے هغه کسانو چه وائی بیشکه الله تعالیٰ هغه مسیح ځوئے د مریم دے اووئیلی دی مسیح: اے بنی اسرائیلو بندګی کوئے د الله تعالیٰ چه رب ځمادے اورب ستاسو دے بیشکه چاچه شرك او کړودَ الله تعالیٰ سره پس یقیناً بندکړے دے الله تعالیٰ په هغه باندے جنت اوځائے د ده اور دے اونیشته ظالمانولره هیڅ مدد ګار (۷۲) یقیناً کفر کړے دے هغه کسانو چه دوی وائی چه بیشکه الله تعالیٰ دریم دے د دریونه۔ اونیشته هیڅ حقداردَ بندګی سیوا د یوذات نه او که

[۷۱] ربط دا دے چه دغه مرض دَتکلیف په دوی کښ همیشه دپاره باقی پاتے شواوسبب د هغے ګمان عدم نزول د عذاب وؤ ﴿وَحَسِبُوْٓا﴾ اشاره ده استمراردَ دے مرض ته په دوی کښ یعنی دوی چه تکذیب اوقتل د انبیاؤ کوؤ نودوی داکارجائز ګنړلواو وئیل ئے چه دا سبب د عذاب نه دے ﴿اَنْ لَّا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ﴾ په معنیٰ د عذاب اوبلاء اوتکون دَکان وجودی په معنیٰ دے صرف فاعل غواړی اواسباب د دے ګمان ډیروؤ اول دا چه دوی وئیل نَحنُ اَبنَاءُ اللّٰهِ وَاَحِبَّاءُ هُ دویم د دوی عقیده وه چه هررسول د دوی د شرع نه لګ خلاف بل حکم راوړی نوهغه د دوی په نیزواجب القتل وؤ ﴿فَعَمُوْا وَصَمُّوْا﴾ روندوالے او کونړوالے دَحق نه مراد دے یعنی حق ته کتل اوفکرکول اوحق آوریدل دوی پریخودل ﴿ثُمَّ تَابَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ﴾ اشاره ده چه دوی توبه نه ده کړے بلکه الله تعالیٰ د تجدید د دین دپاره نور رسولان را اولیګل ﴿ثُمَّ عَمُوْا وَصَمُّوْا كَثِيْرٌ مِّنْهُمْ﴾ کثیرئیے ځکه اوئیل چه بعضودَ دوی نه ایمان راوړے دے په اخری نبی ﷺ باندے اوکثیرخبردے د مبتدا محذوف یعنی هم کثیر۔

[۷۲] دا دویمه مسئله تبلیغیه ده په باره دَکفردَ نصاریٰ کښ اومقصد پکښ هغوی ته دعوت د توحید دے په قول د عیسیٰ علیه السلام سره اوپه دے کښ ذکردَ عمی اوصم د دوی دے مخکے د بعثت د اخری رسول نه۔ ﴿اِنَّ اللّٰهَ هُوَالْمَسِيْحُ ابْنُ مَرْيَمَ﴾ داسے په (۱۷) کښ هم ذکرشول هلته ردکول په عقیده دَشرك فی التصرف باندے اودلته رد دے په عقیده د شرك فی العبادة باندے ځکه ورپسے قول د عیسیٰ علیه السلام په رد دَشرك فی العبادة کښ ذکرکوی۔اودا قول د یعقوبیه اوملکانیه وؤ(داډلے وے دَنصاریٰ) په دے وجه سره چه دوی وئیل چه الله تعالیٰ حلول کړے دے په بدن دَعیسیٰ علیه السلام کښ نوعبادت دَعیسیٰ عبادت د الله تعالیٰ دے اوهرکله چه دوی دانه دی وئیلی چه عیسیٰ علیه السلام مستقل اله دے د دے وجے نه ئے داسے اونه وئیل چه ان المسیح بن المریم هوالله ﴿وَقَالَ الْمَسِيْحُ﴾ دا دلیل نقلی دے د عیسیٰ علیه السلام نه په رد د شرك فی العبادة باندے۔

يَنْتَهُوْا عَمَّا يَقُوْلُوْنَ لَيَمَسَّنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٧٣﴾ اَفَلَا يَتُوْبُوْنَ اِلَى
اللّٰهِ وَ يَسْتَغْفِرُوْنَهٗ ؕ وَ اللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٧٤﴾ مَا الْمَسِيْحُ ابْنُ مَرْيَمَ اِلَّا رَسُوْلٌ ۚ قَدْ خَلَتْ
مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ ؕ وَ اُمُّهٗ صِدِّيْقَةٌ ؕ كَانَا يَاْكُلٰنِ الطَّعَامَ ؕ اُنْظُرْ كَيْفَ نُبَيِّنُ لَهُمُ الْاٰيٰتِ
ثُمَّ انْظُرْ اَنّٰى يُؤْفَكُوْنَ ﴿٧٥﴾ قُلْ اَتَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَّلَا نَفْعًا ؕ

منع نه شول دوی دَ هغه خبرونه چه دوی وائی خامخا جوخت به شی په کافرانوپورے دَ دوینه عذاب دردناك (۷۳) آیا پس توبه نه اوباسی (په زړه سره) اللّٰه تعالیٰ ته او چه بخنه اوغواړی دَ هغه نه په ژبه اواللّٰه تعالیٰ بخونکے دے رحم کؤونکے دے (۷٤) نه دے مسیح ځوئی دَ مریم مګر رسول دے، یقیناً تیرشوی دی مخکښ دَ دهٔ نه ډیر رسولان، اومورډ دهٔ ډیره رشتنیے وه، ؤو دواړه خوړلوئے خوراك اوګوره څنګه بیانؤودوی ته دلیلونه دَ توحید، بیا اوګوره څرنګه اړویدلے شی دوی (دَ توحیدنه)(۷۵) اُوایه: ایابندګی کوے تاسیو سوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه دَ هغه چاچه اختیارنه لری تاسولره دَ ضرراونه دَ نفعے۔

[۷۳] دا دریمه مسئله تبلیغیه ده رد دے په بله عقیده دَ نصاریٰ باندے اودا عقیده دَ نسطوریه وه اوابن جریروئیلی دی چه ټولے ډلے ملکانیه، یعقوبیه اونسطوریه په دے باندے قول کوی، اوجمال الدین په تفسیر قاسمی کښ وئیلی دی چه دا ډله (کولی ری دینس) وه هغوی وائی آلهه درے دی اللّٰه اوعیسیٰ اومریم دَ دے عقیدے دَ تثلیث په باره کښ اختلاف دے دَ تعبیراتویوتعبیردا دے چه دوی وائي چه اب اله دے اوابن اله دے او روح اله دے اومجموعه یواله دے لکه شمس (نمر)کښ درے اوصاف دی شعاع، حرارت اوقرص(ککوړے دَنمر) ﴿وَمَا مِنْ اِلٰهٍ اِلَّا اِلٰهٌ وَّاحِدٌ﴾ دا صریح رد دے په قول دَ هغوی باندے ځکه هغوی اګرچه اله واحد وئیلولیکن نورئیے هم موصوف کول په وصف دَ اله سره ﴿لَيَمَسَّنَّ﴾ مس په معنیٰ دَ اصابت دے اوپه معنیٰ دَ الصاق (جوخت) کیدل۔

[۷٤] داترغیب دے توبه کولوته دَ دواړه عقیدونه اوترغیب په لفظ دَ زورنے سره دے اوخازن وئیلی دی استفهام په معنیٰ دَ امرسره دے توبه په معنیٰ دَ رجوع الے التوحید ده اواستغفارپریخودل دَشرك اوکفردی یا توبه په زړه سره اواستغفارپه ژبه باندے دے۔

[۷۵] دادلیل دے دپاره دَ نفی دَ الوهیت دَ عیسیٰ علیه السلام اودَ موردَ هغه نه اودا علت دے دپاره دَ توبه کولواودا مشتمل دے په ډیرودلیلونوباندے اول داچه ابن مریم دے نوابنیة اومورکیدل خومنافی دی دَ الوهیت سره۔ دویم دا چه رسول دے او رسالت منافی دے دَالوهیت سره اودا حصراضافی دے یعنی په دهٔ کښ وصف دَ رسالت دے صرف وصف دَ الوهیة پکښ نیشته ﴿قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ﴾ دا دریم دلیل دے په دوه توجیهوسره اول دا چه مخکے دَ دهٔ نه رسولان تیرشویدی اودَ هغوی نه هم عجائبات اومعجزات دَ عیسیٰ علیه السلام پشان بیکاره شویدی نوکه دغه عجائبات اومعجزات سبب وی دَالوهیت نوبیا خوبه ټول رسولان آلهه وی دویمه توجیه دا چه مخکے رسولان تیرشویدی نو دا عیسیٰ علیه السلام به هم دَ هغوی پشان مړکیږی نواله نشی کیدلے ﴿وَاُمُّهٗ صِدِّيْقَةٌ﴾ دا دلیل دے دَ نفی دَ الوهیت دَ مریم نه یعنی صدیقیت خومنافی دے دَ الوهیت سره ځکه چه صدیقین خوډیرخلق شته دے پکارده چه ټول دِ الهه شی۔

وَاللّٰهُ هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿٧٦﴾ قُلْ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ لَا تَغْلُوْا فِيْ دِيْنِكُمْ غَيْرَ الْحَقِّ وَلَا
تَتَّبِعُوْٓا اَهْوَآءَ قَوْمٍ قَدْ ضَلُّوْا مِنْ قَبْلُ وَاَضَلُّوْا كَثِيْرًا وَّضَلُّوْا عَنْ سَوَآءِ السَّبِيْلِ ﴿٧٧﴾
لُعِنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ عَلٰى لِسَانِ دَاوٗدَ وَعِيْسَى ابْنِ مَرْيَمَ ؕ ذٰلِكَ بِمَا عَصَوْا وَّ

اواللّٰه تعالیٰ خاص هغه هرڅه آوری اوپوهه دے په هرڅه (٧٦) اُوایه: اے کتاب والو: زیاتے مه کوئے په دین ستاسوکښ بغیرد حق نه اوتابعداری مه کوئ د خواهشاتودَ هغه قوم چه گمراه شوی دی مخکښے ستاسونه اوگمراه کړی دی دوی ډیروخلقو لره اوگمراه پاتے شوی دی د برابرلارے نه (پس د علم نه) (٧٧) لعنت کړے شوے دے په هغه کسانوچه کفرئے کړے دے د بنی اسرائیلونه په ژبه د داؤد(علیه السلام) اوعیسیٰ(علیه السلام) ځوئے د مریم داپه سبب د دے چه نافرمانی کوله او

اودَ دے وجے نه صادقهٔ ئیے نه دے وئیلے ځکه چه صدق خوصفت د اله کیدیشی اوصدیقیت صفت د عبدیت دے (تنبیه) د دے وجے نه اهل علمواستدلال کړے دے چه مریم پیغمبره نه وه (لکه چه ابن حزم وئیلی دی چه ښځه پیغمبره کیدیشی) نوابوالحسن اشعری په دے باندے اجماع ذکرکړے ده چه ښځه پیغمبره نشی کیدلے ﴿كَانَا يَاْكُلٰنِ الطَّعَامَ﴾ دا پنځم دلیل مشترك دے د عیسیٰ(علیه السلام) اومریم په باره کښ دپاره د رد د الوهیت د هغوی او دا واضح دلیل دے چه څوك محتاج وی خوراك ته نوهغه بیا هرڅیزته محتاج وی اوهغه جسم ته محتاج وی اوهغه جسم مرکب وی د غوښے اوهډوکو وغیره نه اوبول اوغائط ته هم محتاج وی اومحتاج اله نشی کیدے۔

[٧٦] دا څلورمه مسئله تبلیغیه ده په رد د شرك فی العبادة سره اودا تفریع ده په رد د الوهیت باندے د عیسیٰ اودَ مریم نه اودا خطاب اگرچه عام دے ټولومشرکینوته لیکن مقصد پکښ رد دے په نصاریٰ باندے ﴿مَالَا يَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا﴾ ضررئیے ذکر کړومخکے ځکه چه دفع د ضرر اول وی د نفع حاصلولونه۔ د ما نه مراد عیسیٰ اومریم دی (سوال) دوی خوذوی العقول دی اوما لفظ خودپاره د غیرذوی العقول دے حقیقةً ؟(جواب) شعرانی د سیبویه نه نقل کړیدے چه لفظ د ما حقیقت مشترکه دے په مینځ د ذوی العقول اوغیرذوی العقول کښ ﴿وَاللّٰهُ هُوَالسَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ﴾ قرطبی وئیلی دی چه اشاره ده چه عیسیٰ علیه السلام باندے داسے احوال راغلی دی چه نه اوری اونه وینی اونه پوهه لری اونه نفع اوضرر ورکولے شی نوځرنګ اله کیدے شی اودغه صفتونه خوصرف د اللّٰه تعالیٰ دی۔

[٧٧] په دے کښ پنځمه مسئله تبلیغیه ده دپاره د رد د غلوّ د نصاریٰ په شرك اوبدعت کولوسره ﴿قُلْ يَا اَهْلَ الْكِتَابِ﴾ اگر چه دا وصف عام دے لیکن ظاهر دا ده چه دا خطاب دے نصاریٰ ته ﴿لَا تَغْلُوْا فِيْ دِيْنِكُمْ﴾ غلوپه اصل کښ تجاوزکول دی د حدنه اودَ هغے دوه استعمالونه دی یوخاص بل عام۔ عام دا دے چه تجاوزد حد نه که په زیاتی کولوسره وی یا په کمی کولوسره وی یعنی افراط کول یا تفریط کول په دے معنیٰ سره په سورة نساء (١٧١) کښ مراد دے، اوخاص دا چه تجاوز کول په طریقه د زیاتی کولوسره نودلته دا معنیٰ مراد ده اوخطاب دے نصاریٰ ته د دے وجے نه دلته مفسرینو معنیٰ کړے ده چه بدعت مه کوئے (فتح البیان د قتاده نه) اونصاراؤ غلوپه باره د عیسیٰ(علیه السلام) کښ کړے ده چه د بشریت نه ئے

كَانُوْا يَعْتَدُوْنَ ﴿٧٨﴾ كَانُوْا لَا يَتَنَاهَوْنَ عَنْ مُّنْكَرٍ فَعَلُوْهُ ؕ لَبِئْسَ مَا كَانُوْا يَفْعَلُوْنَ ﴿٧٩﴾ تَرٰى كَثِيْرًا
مِّنْهُمْ يَتَوَلَّوْنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ؕ لَبِئْسَ مَا قَدَّمَتْ لَهُمْ اَنْفُسُهُمْ اَنْ سَخِطَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ وَفِي

تیریدل دَ حدنه (۷۸) دوی ډوو چه منع به ئے نه کوله دَ بدکارنه چه دوی کړو خامخا بد دے هغه کارچه دوی کړو (۷۹) وینے ته ډیرو لره دَ دوی نه چه دوستانه کوی دَکافرانوسره خامخا بد دے هغه عمل چه مخکښے لیګلے دے دوی لره ځانونودَ دوی ځکه چه غضب کړے دے اللّٰه تعالیٰ په دوی باندے اوپه

اوچت ګنړلے دے ﴿فِيْ دِيْنِكُمْ﴾ په دے کښ اشاره ده چه غلودوه قسمه ده یوغلوده للدین اوبل فی الدین دا رنګ دَ دے نه تعبیر کیدلے شی په بدعت للدین اوبدعت فی الدین نواول قسم هغه دے چه دَ دین دَ ترقئی دپاره وسائل جوړ کړی هغه وسائلوته دین نه وائي لکه علم دَ نحواوصرف وغیره اوطریقه دَ مدارسونوپدے قسم کښ منع نیشته په دے شرط چه سنت ته نقصان نه ورکوی۔ اودویم قسم ته بدعت شرعیه هم وئیلے شی هغه دا چه یوځیزپه دین کښ داخل کړی که عقیده کښ وی یا په عمل کښ یاکیفیت اومقداراو وقت وی اودے ته دین وائي نودا بدعت ضلالت دے په دے ایت کښ دا مراد دے په قرینه دَ فی دینکم سره۔ ﴿غَيْرَ الْحَقِّ﴾ دا صفت دے دَ موصوف محذوف اومفعول مطلق دے دپاره دَتقیید (غلوغیرالحق یعنی الباطل) اوپدے سره دَ غلوحق نه احترازکوی چه هغه جائزده لکه چه مخکښ تیرشول ﴿وَلَا تَتَّبِعُوْٓا اَهْوَآءَ قَوْمٍ﴾ دلته مراد دَاتباع نه تقلید دے(مهائمی تبصیر الرحمٰن) ځکه چه بے دلیله اتباع تقلید وی۔ اهواء جمع دَ هواء ده اودا هغه ده چه نفس هغے طرف ته دعوت کوی(خلاف دَ شرع نه) ﴿قَدْ ضَلُّوْا مِنْ قَبْلُ﴾ زاد المسیراوخازن کښ معنیٰ لیکلے ده(ابتدعوا) په طریقه دَبدعت سره ګمراه شویدی ﴿وَاَضَلُّوْا كَثِيْرًا﴾ اشاره ده چه ډیروالی دَ تابعدارانوته ئے اعتبارنیشته اودا اضلال په سبب دَ دعوت دَهغوی دے ګمراهئی طرف ته۔ ﴿وَضَلُّوْا عَنْ سَوَآءِ السَّبِيْلِ﴾ دا په سبب دَتمسك کولوپه متشابهاتوسره اوامام رازی تفسیرکښ وئیلی دی اول ضلال خودَ هغوی شرك اوبدعات وؤاودویم اضلال یعنی دعوت کول شرك اوبدعت ته اودریم ضلال همیشه پاتے کیدل په دغه ګمراهئی باندے بغیرد توبه کولو نه۔

[۷۸] په دے کښ تخویف دُنیوی دے په ذکرد لعنت مستمره سره په بنی اسرائیلوباندے په سبب دَ هغه ګناهونوچه مخکے ذکر شول اوپدے کښ رد دے دَ هغوی دَ وهم، وهم دا وؤ چه هغوی وئیل چه مونږ اولاد دَ انبیاؤیومونږته ګناهونه نقصان نه راکوی؟ جواب اوشو ﴿لُعِنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا﴾ قرطبی وائي په دے سره معلومه شوه چه کافران اګرچه دَ پیغمبرانواولاد وی او یا په نسب کښ شریف دی لیکن په هغوی باندے لعنت جائزدے ﴿عَلٰى لِسَانِ دَاوٗدَ وَعِيْسَى ابْنِ مَرْيَمَ﴾ مراد دَ دے نه کتاب دَ داؤد علیه السلام (زبور) او کتاب دَ عیسیٰ علیه السلام (انجیل) دے په هغه دواړو کتابونوکښ په کفرکوؤنکو باندے لعنت موجود دے یا مراد دَ دے نه دعاء شردَ هغه دواړوده دَ اول دُعا په اصحاب السبت باندے اودَ دویم دُعا په کفرکوؤنکو روستو دَ نزول دَ مائده نه۔ اودَ دے لعنت دوه اسباب ذکردی په دے قول کښ ﴿بِمَا عَصَوْا وَّكَانُوْا يَعْتَدُوْنَ﴾ عصیان عام ګناهونه اواعتداء بدعات یا ظلم په انسانانو باندے دے۔

[۷۹] په دے کښ دریم سبب دَ لعنت ذکر دے ﴿كَانُوْا لَا يَتَنَاهَوْنَ عَنْ مُّنْكَرٍ﴾ یعنی په یو بل کښ به ئے

الْعَذَابِ هُمْ خٰلِدُوْنَ ﴿٨٠﴾ وَلَوْ كَانُوْا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالنَّبِيِّ وَمَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِ مَا اتَّخَذُوْهُمْ اَوْلِيَآءَ وَلٰكِنَّ كَثِيْرًا مِّنْهُمْ فٰسِقُوْنَ ﴿٨١﴾ لَتَجِدَنَّ اَشَدَّ النَّاسِ عَدَاوَةً لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوا الْيَهُوْدَ وَالَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا ۚ وَلَتَجِدَنَّ اَقْرَبَهُمْ مَّوَدَّةً لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوا الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّا نَصٰرٰى ط ذٰلِكَ بِاَنَّ مِنْهُمْ قِسِّيْسِيْنَ وَ رُهْبَانًا وَّ اَنَّهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ ﴿٨٢﴾

عذاب کښ به دوی همیشه وی (۸۰) اوکه دوی ایمان لرلے په اللّٰه تعالیٰ باندے اوپه پیغمبر(ﷺ) باندے اوپه هغه کتاب چه نازل کړے شوے دے دهٔ ته نه به ئے ژونیولی دوی لره دوستان اولیکن ډیرډ دوینه نافرمان دی(۸۱) خامخا اوبه مومے ته ډیرسخت دَ خلقونه په دُشمنئ کښ دَ مؤمنانوسره یهودیان اومشرکان۔ اوخامخا اوبه مومے ته زیات نزدے دَ دوینه په دوستانه کښ دَ مؤمنانوسره هغه کسان چه وائی دوی بیشکه مونږنصاریٰ یو، داپه سبب دَ دے چه بعضے دَ دوینه طلب ګاردَ حق دی اوویره کژونکی دی اللّٰه تعالیٰ نه اویقیناً دوی لوئی نه کوی دَ حق نه (۸۲)

منکر لیدلوخودَ هغے منع به ئے نه کوله نوپه منکرکولواوپه نهی نه کولوکښ شریك وژنودوه ګناهونه شول قرطبی وئیلی دی په دے کښ اشاره ده اول دا چه نهی عن المنکر فرض ده که په لاس سره وی یا ځُلے سره یا زړه سره وی په اعتبارډ استطاعت دویم که یوتن پخپله معصیت کوی نو په دهٔ باندے هم نهی عن المنکر لازم ده دریم دا چه ترك دَ نهی عن المنکرسبب دَ سخت عذاب دے ﴿لَبِئْسَ مَا كَانُوْا﴾ کښ اشاره ده چه منکر که یو شخص نه کوی خو چه نهی عن المنکر پریګدی نوهم ګنهګاردے۔

[۸۰] دا ذکرډ خباثت دَکشرانودے روستودَ ذکرډ مشرانونه دپاره دَ استمرارډ لعنت په دوی کښ نو دا ځلورم سبب دے او هرکله چه دا دَکشرانوذکروژنودَ دے وجے نه مستقل ئے ذکرکړوبغیرډ حرف عطف نه ﴿تَرٰى كَثِيْرًا مِّنْهُمْ﴾ یعنی مخکے خباثت خوصرف ترك دَنهی عن المنکروژاودا خباثت دَهغے نه زیات دے ځکه چه دوی نهی خودرکنارډ هغوی سره دوستانے کوی که مراد دَکثیرا نه منافقان وی نوداکثرت فی نفسه دے ﴿اَنْ سَخِطَ اللّٰهُ﴾ سخط زیات دے دَ غضب نه په دے وجه چه په دے کښ معنیٰ دَخفګان ده سرهٔ دَ غصے نه اودَ دے ایت نه معلومه شوه چه په موالات (دوستانه) دَکافرانوسره دوه عذابونه راځی یو سخط دَ اللّٰه تعالیٰ دویم خلود په عذاب کښ۔

[۸۱] په دے کښ رد دے په موالات دَکافرانو۔ اوپه دے کښ مخکے ایت پشان دوه توجیه دی (۱) منافقان مراد دی او النبی نه مراد اخری رسول دے اوما انزل الیه نه مراد قرآن دے(۲) اوکه کافران کتابیان مراد وی نودَ النبی اوما انزل نه مراد موسیٰ علیه السلام اوتورات دے، اومقصد دَ ایت دا دے چه موالات دَکافرانوسره منافی دَ ایمان باللّٰه اونبی اوکتاب اللّٰه سره دے۔

[۸۲] دا تفریع ده په ما قبل بیان باندے په ذکرډ فرق سره په مینځ دَ یهودو اونصاریٰ کښ نواشاره ده چه ما قبل ذکر شوی عیبونه په یهودیانواودَ هغوی ملګرومشرکانوکښ زیات دی په نسبت دَنصاری ﴿لَتَجِدَنَّ اَشَدَّ النَّاسِ﴾ دا عبارت دلالت کوی په ښکاره والی دَ دشمنئ دَ هغوی باندے ﴿وَلَتَجِدَنَّ اَقْرَبَهُمْ مَّوَدَّةً لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوا الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّا نَصٰرٰى﴾ په دے کښ دَ مفسرینودوه قولونه دی اول دا چه مراد دَ دے نه هغه

وَإِذَا سَمِعُوا مَآ أُنْزِلَ إِلَى الرَّسُوْلِ تَرٰٓى اَعْيُنَهُمْ تَفِيْضُ مِنَ الدَّمْعِ مِمَّا عَرَفُوْا مِنَ الْحَقِّ ۚ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَآ اٰمَنَّا فَاكْتُبْنَا مَعَ الشّٰهِدِيْنَ ﴿٨٣﴾ وَمَا لَنَا لَا نُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَمَا جَآءَنَا مِنَ الْحَقِّ ۙ وَنَطْمَعُ اَنْ

او کله چه واوری دوی هغه کتاب چه نازل کړے شوے دے رسول ته وینے به سترګے د دوی چه ډکیږی (بهیږی) د اوښکونه د وجے د دینه چه دوی اوپیژندلوحق، وائی دوی اے ربه ځمونږه ایمان راوړے دے مونږپس اولیکه مونږسره د شهادت کوونکونه (۸۳) اوڅه عذردے ځمونږ چه ایمان به نه راوړوپه الله تعالیٰ اوپه هغه څه چه راغلے دے مونږ ته د حق نه، اوطمع لروچه

نصاریٰ دی چه په حبش کښ یا په مدینه کښ ئیے ایمان راوړے وؤاو قرآن ئیے اوریدلے وؤاودلیل د دے قول دا دے چه دوی دپاره ئیے دوستانه د مؤمنانوثابت کړے ده ـدویم قول دا دے چه مراد د دے نه عام نصاریٰ دی اګرچه کافران وی او وجه د فرق مفسرینودا لیکلے ده چه مذهب د یهودودا دے چه شراواذیت رَسُول مخالف ته واجب دی که په قتل سره وی که مال لوټ کولوسره وی وغیره اوپه مذهب د نصاریٰ کښ ایذاء ورکول مخالف ته جائزنه دی۔ (سوال) نصاریٰ کافرپه دے وخت کښ د یهودوپشان دی بلکه د هغوی نه زیاته دُشمنی کوی د مسلمانانوسره نوځرنګه دا فرق صحیح کیږی ؟ (جواب) دلته مراد بعضے نصاریٰ دی لکه چه مخکے ذکر شول ﴿ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ﴾ وجه د سببیت دا ده چه په قوم یا کلی کښ داسے حق موجودوی اودا عیان د حق وی نوهغه قوم کښ انابت الے الحق پیداکیږی ځکه چه عملی کارپه خپل قوم کښ وینی ﴿قِسِّيْسِيْنَ﴾ جمع د قسیس ده په اصل کښ د قسّ نه دے په معنیٰ د تتبع او د طلب د یو څیز کښ مطلق عالم ته وئیلے شی اودا رنګ تابعدارعلماؤ ته هم وئیلے شی او قرطبی، نیشاپوری د عروة بن زبیرنه روایت ذکرکړے دے چه هرکله نصاریٰ خپل کتاب انجیل ضائع کړواوتبدیلی ئیے پکښ اوکړه نو یوعالم د هغوی پاتے شوپه حق اوپه استقامت باندے او د هغه نوم قسیس وؤنوځوك چه هغه په دین باندے وؤنوهغوی ته ئیے قسیسین وئیل یعنی د قسیس تابعداران په حق دین کښ﴿وَرُهْبَانًا﴾ هغه عبادت کوؤنکی چه د الله تعالیٰ نه یره کوی اومال وجاه ئیے مطلب نه وی ﴿وَاَنَّهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ﴾ اشاره ده چه علم د حق اوعبادت په دوی کښ داسے اثرکړے دے چه دوی د حق خبرے نه هیڅ لوئے نه کوی بلکه تواضع کوی۔

[۸۳] دا هم عطف دے په ما قبل صفتونوباندے اوهغه صفتونه په دوی کښ د قرآن د اوریدلو نه مخکښ موجود وؤاودا صفت د قرآن په وخت کښ دے اوپه دے کښ اشاره ده چه تکمیل د مخکے درے صفتونوپه دے څلورم صفت سره دے ﴿تَرٰٓى اَعْيُنَهُمْ تَفِيْضُ مِنَ الدَّمْعِ﴾(سوال) په دے کښ خودَ بهیدلو صفت د سترګودپاره ذکرکړے دے اوحال داچه دا صفت د اوښکودے؟ (جواب) په دے کښ مبالغه ده په اصل کښ دا وؤچه سترګے د دوی ډکے شی د اوښکونه بیا را بهیږی یا مِن په معنیٰ دَبا سره دے﴿مِمَّا عَرَفُوْا مِنَ الْحَقِّ﴾ اول من اجلیه دے اودویم د تبعیض دپاره دے یعنی د بعض حق پیژندلوسره ژړا اوکړی اوکله چه ټول واوری نوبیا خوبه د دے نه زیاته ژړا وی ﴿يَقُوْلُوْنَ﴾دا دلیل دَعدم استکبار دے﴿فَاكْتُبْنَا مَعَ الشّٰهِدِيْنَ﴾ مراد د دے نه اُمت د محمدﷺ دے په دلیل د صفت د دوی په سورة بقره(۱۴۳) اوسورة حج (۷۸) کښ اوداسے دُعا د نصاریٰ مشرانوهم غوختلے وه۔

يُدْخِلَنَا رَبُّنَا مَعَ الْقَوْمِ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۸۴﴾ فَاَثَابَهُمُ اللّٰهُ بِمَا قَالُوْا جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ
ع ۱۱ فِيْهَا ؕ وَذٰلِكَ جَزَآءُ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۸۵﴾ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَآ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَحِيْمِ ﴿۸۶﴾ يٰٓاَيُّهَا
الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُحَرِّمُوْا طَيِّبٰتِ مَآ اَحَلَّ اللّٰهُ لَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوْا ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِيْنَ ﴿۸۷﴾

داخل به کړی مونږه رب ځمونږ دَ قوم نیکانو سره (۸٤) پس بدله ورکړه دوی له اللّٰه تعالیٰ په بدله دَ وینا دَ دوی جنتونه چه بهیږی لاندے دَ هغے نه ولے همیشه به وی دوی په هغے کښ اودا بدله دَ ښائسته عمل کؤونکو ده(۸۵) اوهغه کسان چه کفرئے کړے اودروغژن ګنړی ایاتونه ځمونږ دغه کسان دوزخیان دی (۸٦) اے ایمان والو: حرام مه ګنړئ مزیدارهغه څیزونه چه حلال کړی دی اللّٰه تعالیٰ تاسولره اوزیاتے مه کوئے دَ حدنه، یقیناً اللّٰه تعالیٰ مینه نه کوی دَ زیاتی کؤونکوسره (۸۷)

[۸٤] دا جواب دَ هغوی وؤپه رد دَ هغه چاکښ چه دوی له ئے ملامتیا ورکوله چه تاسو ولے بل دین غوره کړونوهغوی اُوئیل ﴿وَمَا لَنَا لَانُؤْمِنُ بِاللّٰهِ﴾ دا استفهام انکاری دے یعنی هیڅ عذرنیشته په ترك دَ ایمان کښ﴿ وَمَاجَآءَ نَا مِنَ الْحَقِّ﴾ مراد دَ دے نه قرآن دے اودا عطف دے په باللّٰه باندے یا دا جمله حالیه ده ﴿وَنَطْمَعُ﴾ عطف دے په نؤمن باندے یاحال دے په تقدیردَ نحن نطمع سره حاصل دا دے چه سبب دَ ایمان موجود دے چه طمع دَ جنت ده اومانع دَ ایمان نه نیشته اوپه وخت دَ وجود دَ سبب اودَعدم مانع کښ وجوب راځی ﴿ مَعَ الْقَوْمِ الصّٰلِحِيْنَ﴾ دَ دے نه مراد اُمت دَ محمد ﷺ دے په قرینه دَ سورة انبیاء (۱۰۵) سره اومع په معنیٰ دَ فی سره دے یا عبارت پټ دے یعنی فی الجنة مع القوم الصالحین۔

[۸۵] دا بشارت اُخرویه دے ﴿بِمَا قَالُوْا﴾ (سوال) دَ دے نه معلومه شوه چه صرف په اقرارسره جنت حاصلیږی اودا مذهب دَکرامیه ډلے دے چه صرف اقرارته ایمان وائي؟(جواب) خازن او رازی وئیلی دی چه مخکښ دَ دوی اخلاص ذکر شوپه دوه صفاتو سره اول ژړا او دویم معرفت دَ حق چه دا دلالت کوی په پوره تصدیق دَ زړه باندے نو روستو ورپسے ئے قول ذکرکړواوموصوف ئے کړل په محسنین سره بل دا چه نیشاپوری وئیلی دی چه دلته قول په معنیٰ دَ اعتقاد دے اوپیروځایونو کښ قول نه مراد عقیده وی۔

[۸٦] دا تخویف اُخروی دے هغه کسانوته چه دَ مخکے صفاتوخلاف صفات لری۔

[۸۷] دَ دے ځائے نه دویم باب دے دَ دے حصے ترآخرد سورت پورے۔ (ربط) هرکله چه مخکے مدح دَ قسیسین او رهبان ذکرشوه نواعتراض راغے چه په هغوی کښ دَ رهبانیت دَ وجے نه تحریم دَ طیباتوهم دے حاصل جواب دا دے چه دَ هغے نه ځان ساتئے ﴿ لَاتُحَرِّمُوْا طَيِّبَاتِ مَآ اَحَلَّ اللّٰهُ لَكُمْ﴾ تحریم دَ غیراللّٰه کښ ځلورقسمونه دی اول داچه دَ انکاردَ وجے نه حرام دَ اللّٰه تعالیٰ حلال اوګنړی او حلال ئے حرام اوګنړی دویم دَ وجے دَ اعتقاد اودَ خوف شرکی نه یعنی چه یوحلال ځیز (چه نسبت ئے یومعبودته کړے شوے وی) نوپه ځان باندے حرام اوګنړی په دے عقیده چه داحلال کړم نودا معبود به ماته ضرراورسوی لکه بحیره سائبه وغیره دریم په نصوصوشرعیوکښ څه ځیزحلال وی لیکن څه علماء سوء په تقلید سره (بے دلیله) هغه حرام ګرځولی وی۔نودا نهی دَلاتحرموا دے ټولو قسمونوته شا مل ده۔ لاتحرموا دا دے چه عقیده دَ هغے دَحرمت مه لرئ اوپه ژبه باندے دَ هغے دَ حرمت بیان مه کوئے اوپه عملی طورباندے دَ هغے نه

وَ كُلُوْا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ حَلٰلًا طَيِّبًا ۪ وَّ اتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِيْۤ اَنْتُمْ بِهٖ مُؤْمِنُوْنَ ﴿۸۸﴾ لَا يُؤَاخِذُكُمُ
اللّٰهُ بِاللَّغْوِ فِيْۤ اَيْمَانِكُمْ وَلٰكِنْ يُّؤَاخِذُكُمْ بِمَا عَقَّدْتُّمُ الْاَيْمَانَ ۚ فَكَفَّارَتُهٗۤ اِطْعَامُ عَشَرَةِ
مَسٰكِيْنَ مِنْ اَوْسَطِ مَا تُطْعِمُوْنَ اَهْلِيْكُمْ اَوْ كِسْوَتُهُمْ اَوْ تَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ ؕ فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ
ثَلٰثَةِ اَيَّامٍ ؕ ذٰلِكَ كَفَّارَةُ اَيْمَانِكُمْ اِذَا حَلَفْتُمْ ؕ وَ احْفَظُوْۤا اَيْمَانَكُمْ ؕ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ اٰيٰتِهٖ
لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۸۹﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْاَنْصَابُ وَالْاَزْلَامُ رِجْسٌ مِّنْ

اوخورئے دَ هغے نه چه درکړے دے تاسوته اللّٰه تعالیٰ حلال مزے والا اوویره کوئے دَ اللّٰه تعالیٰ چه تاسوپه هغه باندے ایمان لرئے (۸۸) نه نیسی اللّٰه تعالیٰ تاسوپه بے ارادے دَ قسمونو ستاسوکښ اولیکن نیسی تاسو لره په هغے سره چه ټرلی وی تاسو قسمونه پس کفاره دَ هغے خوراك ورکول دی لس مسکینانوته دَ درمیانه هغه خوراك نه چه خوروئ ئے تاسو خپل کور والاؤته یاجامے دَ هغوی یاآزادول دَ مرئی دی، پس څوك چه نه مومی پس دهٔ باندے روژے دی درے ورځے (پرله پسے) داکفاره دَ قسمونوستاسوده کله چه قسمونه اوکړئے، اوبچ ساتئے قسمونه خپل دغسے بیانوی اللّٰه تعالیٰ تاسوته احکام خپل دَ دے دپاره چه شکراوکړئے (۸۹) اے ایمان والو: یقیناً شراب اوجواری اوبندګی دَ درګاهونو، اوقسمت معلومول په غشوسره پلیتی ده، دَ

داسے ځان مه ساتئے لکه چه دَحرامونه ځان ساتل پکاردی۔

[۸۸] په دے کښ تاکید دے دَلاتحرموا اوذکردَ شرطونودَ خوراك دے چه حلال اوطیب به وی اومراد دَکلوانه فائده اخستل دَ حلالونه په خوراك څښکاك، لباس اوسورلئ کولو وغیره اوخوراك چونکه لوئے مقصد دے دَ دے وجے نه هغه ئے خاص کړو په ذکرسره ﴿حَلٰلًا طَيِّبًا﴾ حلال خوهغه دے چه دلیل شرعی دَحرمت دَ هغے دپاره نه وی اوطیبا هغه دے چه دَ شبهے نه هم پاك وی۔ ابن مبارك نه نقل دی چه حلال هغه دے چه په طریقه شرعی سره حاصل شی اوطیب هغه دے چه په هغے کښ غذائیت اوترقی دَ بدن وی۔ اومضردَ صحت نه وی۔

[۸۹] ربط دَ ایت دا دے چه قرطبی اوسمعانی روایت کړے دے چه کوم صحابه کرامو دَ رهبانیت اراده کړے وه نوهغوی ورسره قسم کړے وؤنوهرکله چه نازل شو مخکے ایت چه (لاتحرموا طیبات ما احل اللّٰه لکم) نوهغوی تپوس اوکړو چه مونږ چه قسم کړے دے نودَ هغے به څه حکم وی نودا ایت نازل شو ﴿لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللّٰهُ﴾ داسے په سورة بقره ۲۲۵ کښ تیر شویدی ، مواخذه دوه قسمه ده اول دُنیوی یعنی کفاره دَ قسم دویم اُخروی یعنی عذاب الٰهی دلته نفی دَ دواړه قسمونومراد ده ﴿بِاللَّغْوِ فِيْۤ اَيْمَانِكُمْ﴾ لغوپه اصل کښ هغه ځیزدے چه په بے پرواهئی سره اوغور ځولے شی اولغودوه قسمه ده اول دا چه الفاظ دَ قسم دَځلے نه بغیرد ارادے نه دَعادت دَ وجے نه اوځی لکه بعضے خلق دَ عادت دَ وجے نه وائی قسم مِ دے، واللّٰه، باللّٰه۔ دویم قسم چه په تیرشوی کارکولویا نه کولوباندے په طوردَ انکارسره قسم اوکړی دَ هغے کول یا نه کول دَ ده نه هیروی اول قول دَ امام شافعیؒ دے اودویم قول دَ امام ابوحنیفهؒ اوامام احمدؒ دے راجح داده

عَمَلِ الشَّيْطٰنِ فَاجْتَنِبُوْهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿۹۰﴾ اِنَّمَا يُرِيْدُ الشَّيْطٰنُ اَنْ يُّوْقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَآءَ

عمل دَ شیطان نه دی پس د دې ترینه اوکړئ دپاره دَ دے چه کامیاب شئے (۹۰) یقیناً اراده لری شیطان چه واچوی په مینځ ستاسو کښ دُشمنی او کینه

چه دا دواړه یمین لغو کښ داخل دی ﴿بِمَا عَقَّدْتُّمُ الْاَيْمَانَ﴾ عقدپه اصل کښ ترلوته وئیلے شی نوپدے سره هغه قسم مراد دے چه کول یا نه کول دَ راتلونکی وخت سره اوترلے شی اودیته یمین منعقد وئیلے شی په دے کښ په وخت دَ حانث کیدلوکښ کفاره واجب ده بالاتفاق یعنی (بِنَكْثِ ما عقدتم یا اذاحنثتم)۔ ﴿فَكَفَّارَتُهٗٓ﴾ دا تفصیل دَ یؤاخذکم دے اودے ته کفاره وئیلے شی ځکه چه په دے سره ګناه دَ ماتولو پټ شی اومعاف شی ﴿اِطْعَامُ عَشَرَةِ مَسٰكِيْنَ﴾ دَ اطعام په تحدید کښ اختلاف دَ اهل علمودے دَ علی﵁ روایت دے چه دوه وخته به خوراك ورکوی (غرمه او ماښام) دَ حسن بصری نه نقل دے چه یو وخت خوراك چه ډوډئی اوغوښه وی پوره دی دَ اکثر اهل علمونه نقل دی چه دَ غنمونه نیم صاع (چه هغه تقریباً دوه کیلووی) یا دَ هغے قیمت دِ ورکړی که په هریوباندے عمل اوکړی نوجائزدے ﴿اَوْ كِسْوَتُهُمْ﴾ په ایت کښ دَ دے حدهم نه دے ذکر شوے نوامام شافعیؒ فرمائي چه کوم ته جامه وئیلے شی قمیص اوګد اوپرتوګ یا لنګ یا پګړئے دِ ورکړی اوامام مالکؒ اواحمد وائي هغه جامه چه په هغے کښ مونځ کول صحیح وی دَسړی یا دَ بڼځے مناسب، مذهب حنفی کښ دی چه جوړه جامه چه په عرف کښ ځنګه استعمالیږی اودا به په ملکیت کښ ورکوی ﴿اَوْ تَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ﴾ دَ ځټ نه مراد ټول ذات دَ انسان دے که مرئے وی اوکه وینځه وی اودَ احنافو په نیزعام دے که مؤمن وی اوکه کافر وی اودَ نورو ائمو په نیزمؤمن کیدل شرط دی ﴿فَصِيَامُ ثَلٰثَةِ اَيَّامٍ﴾ په اطعام کښ صرف اشاره ده چه په ځان باندے لس ورځے خوراك کم کړئے اوپه دے کښ تصریح ده چه درے ورځے دِ ځان بالکل اوګے کړی نو په اول کښ لس انتهاء دَ جمع قلت اوابتدا دَ جمع کثرت ذکرشوه اوپه روژه کښ ادنی دَ جمع قلت ذکرکړه یعنی داجمع قلت دَ عدد دَ جمع کثرت دَ اطعام سره برابر ده اوپه دے درے ورځوکښ تتابع (پرله پسے والے) شرط دے په نیزدَ احنافو باندے په سبب دَ قراءة دَ ابی بن کعب﵁ اوابن مسعود﵁ سره، اودَ نوروائمو په نیزتتابع شرط نه دے صرف سنت دے ﴿ذٰلِكَ كَفَّارَةُ اَيْمَانِكُمْ اِذَا حَلَفْتُمْ﴾ او دَ دے سره حنث مراد دے لیکن حلف اصل سبب دے دَکفارے دَ دے وجے نه دَ هغے ذکرئے اوکړونودا دلیل دے چه مخکے کول دَکفارے په قسم کولوباندے جائزنه ده ﴿وَاحْفَظُوْٓا اَيْمَانَكُمْ﴾ اوله توجیه داچه ځان بچ کړئ دَ ډیرو قسمونوکولونه (خازن) دویمه دا چه روستودَ حنث نه تادی اوکړئے په کفاره ورکولوکښ (قرطبی)۔

[۹۰] ربط دَمخکے سره دا دے چه هرکله ئے اوفرمائیل (لاتحرموا طیبات ما احل اللّٰه لکم) نوخمر او میسرهم بعضوخلقوپه نیزطیبات وؤنوردکوی په هغوی باندے چه دا طیبات نه دی ﴿يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا﴾ قرطبی وئیلی دی چه دَجاهلیت په خلقو کښ دا عادت وؤنو روستو دَ ایمان نه هم بعضے اثار دَ دے په بعضے مؤمنانوکښ پاتے وؤدَ دے وجے نه خطاب ئے په صفت دَ ایمان سره اوکړویعنی صفت دَایمان دَ دے عاداتوسره منافی دے ﴿اِنَّمَا الْخَمْرُ﴾ سورة بقره:(۲۱۹) کښ دَ دے تفسیر تیرشوے دے اوپه مسند احمد کښ ذکردی چه تحریم دَ خمر(شرابو) په تدریج سره درے مرحلوکښ راغلے دے اول په سورة بقره (۲۱۹)

فِي الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ وَيَصُدَّكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ وَ عَنِ الصَّلٰوةِ ۚ فَهَلْ اَنْتُمْ مُّنْتَهُوْنَ ﴿۹۱﴾ وَاَطِيْعُوا

په څکلو دَ شرابو اوکولو دَ جوارئے کښ اومنع کړی تاسودَ ذکردَ اللّٰه تعالیٰ نه اودَ مانځه نه۔ پس آیا تاسومنع کیدونکے یئ؟(۹۱) اوتابعداری کوئے

کښ نوبعضوصحابوپریخودل اوبعضوبه استعمال کوؤنوییا په سورة نساء (۴۳) کښ اوئیلے شول چه په وخت دَ مونځ کولوکښ منع دی نوییا به بغیرد وخت دځ مونځ نه بعضے کسانوځښکل نوییا دا ایت نازل شونو ټول صحابه منع شول۔ او خمرهرهغه څیزدے چه عقل پټوی اوحدیث دَ مسند احمدکښ دی چه دَ دے خرڅول اودَ دے قیمت اخستل هم حرام دی ﴿وَالْمَيْسِرُ﴾ هرقسم جواری کول هرکله چه په جوارئ سره مال په اسانه طریقه حاصلیږی دَ دے وجے نه دَ هغے نوم میسر کیخودلے شوے دے اوقرطبی وئیلی دی چه واړه هلکان چه په اکورو(بلورو) وغیره سره لوبے کوی اودَ یوبل نه ئے ګټه کوی دا هم په میسرکښ داخل دی ﴿وَالْاَنْصَابُ﴾ جمع دَ نُصُب یا دَ نَصُبٌ ده په اصل کښ په معنیٰ دَ مفعول سره دے یعنی منصوب(اودرولے شوے، مقررکړے شوے) اوپه اصطلاح شرعی کښ هرهغه څیز چه خلق ئے مقرر کړی اوبندګی (سجدے، طوافونه، ذبح اونذرونه وغیره) دَ هغے کوی ﴿وَالْاَزْلَامُ﴾ دَ دے سورة په ابتداء کښ تفصیل دَ استقسام بالا زلام ذکر کړے شوے دے ﴿رِجْسٌ﴾ په لغت کښ هرخبیث ته وئیلے شی چه هغه بدګنړ لے کیږی په عقل اوپه شرع کښ او اطلاق دَ دے لفظ اکثرپه هغه ځائے کښ کیږی چه پلیتی پکښ پټه وی عام خلق وربانده نه پوهیږی دَ دے وجے نه منافقانوته رجس په سورة توبه ۹۵ کښ وئیلے شویدی اونجس هغه څیزته وئیلے شی چه ظاهراً باطناً پلیت وی لکه مشرکان په سورة توبه (۲۸) کښ ﴿مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ﴾ یعنی شیطان انسی اوجنی داکارونه کوی یا ئے خلقوته خائسته کوی په وسوسو سره ﴿فَاجْتَنِبُوْهُ﴾ ضمیر ټولوته راجع دے په تاویل دَ مذکورسره یا رجس ته راجع دے۔

[۹۱] په دے کښ هم تاکید دَ حرمت دَ خمراومیسرذکرکوی چه دا سبب دفساد دُنیوی اودینی دے﴿الْعَدَاوَةَ﴾ کنځل او وهل اوقتال کول هرکله چه په خمروکښ په نشه کیدلوسره فحش خبرے کیږی نوهغه سبب شی دَ دُشمنئ اوپه میسرکښ په مال بیللوسره بلکه بعض خلق په جوارئے کښ خپل اهل اواولاد هم ګانړه کوی دَ بل چا سره اودَ بل چا په لاس کښ چه هغه ګوری نوسبب دَ دُشمنئ اوګرځی۔ ﴿وَالْبَغْضَآءَ﴾ بغض پته کینه اوحسد ته وئیلے شی اوبغض سبب ګرځی دَ قطع تعلق اودا سبب دَ فساد دَ ژوند دے ﴿وَيَصُدَّكُمْ عَنْ ذِكْرِاللّٰهِ﴾ په دے جملے سره فساد دینی دَ خمراومیسرذکرکوی ځکه چه خمرسره سرور دَ نفس اواستغراق په لذّت جسمانی کښ حاصل شی نودَ ذکرالٰهی نه غافل شی اوپه میسرکښ ګټه اوکړی نوزړه کښ ئے غروریپیداشی اوکه مغلوب شی نوبیا حیلے جوړوی دَ ګټے دَمال دپاره ﴿فَهَلْ اَنْتُمْ مُّنْتَهُوْنَ﴾ مراد دَ دے نه امرکول دی په منع سره په طریقه دَ مبالغے سره دَ دے وجے نه دَ عمرؓ نه نقل دی په روایت دَ ابوداؤد سره چه هغه دَ دے جملے سره اوئیل انتهینا(منع شومونږ)۔

اللّٰهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ وَاحْذَرُوْا ۚ فَاِنْ تَوَلَّيْتُمْ فَاعْلَمُوْٓا اَنَّمَا عَلٰى رَسُوْلِنَا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿۹۲﴾ لَيْسَ
عَلَى الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ جُنَاحٌ فِيْمَا طَعِمُوْٓا اِذَا مَا اتَّقَوْا وَّاٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ثُمَّ
اتَّقَوْا وَّاٰمَنُوْا ثُمَّ اتَّقَوْا وَّاَحْسَنُوْا ؕ وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۹۳﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَيَبْلُوَنَّكُمُ اللّٰهُ ع ۱۲
بِشَيْءٍ مِّنَ الصَّيْدِ تَنَالُهٗٓ اَيْدِيْكُمْ وَرِمَاحُكُمْ لِيَعْلَمَ اللّٰهُ مَنْ يَّخَافُهٗ بِالْغَيْبِ ۚ فَمَنِ اعْتَدٰى بَعْدَ ذٰلِكَ

دَ اللّٰه تعالیٰ اوتابعداری کوئے دَ رسول اوبچ شئ دَ خلاف دَ دواړو نه پس که تاسومخ اوګرځوو پس پوهه شئے یقیناً په رسول ځمونږ باندے رَسول دی ښکاره (۹۲) نیشته په هغه کسانوچه ایمان ئے راوړے دے اوعمل ئے کړے دے په طریقه دَ نبی(ﷺ) څه ګناه په هغه کښ چه دوی خوړلی دی کله چه ځان بچ کوی دَ شرك نه اوپوره ایمان لری اوعمل کوی په طریقه دَ نبی(ﷺ) بیاځان بچ کوی دَ حرامونه اوایمان همیشه لری بیاځان بچ کوی دَ شبهاتونه اوخائسته عمل کوی اواللّٰه تعالیٰ خوښوی خائسته عمل والا (۹۳) اے ایمان والو: خامخا ازمیښت کوی په تاسو اللّٰه تعالیٰ په څه څیز سره دَ ښکارنه چه رسی هغے ته لاسونه ستاسو اونیزے ستاسو دے دپاره چه ښکاره کړی اللّٰه تعالیٰ هغه څوك چه ویریږی دَ اللّٰه تعالیٰ نه په حال دَ نه لیدلو کښ پس چاچه زیاتے اوکړو پس دَ دینه

[۹۲] دا هم متعلق دے دَحکم دَ خمراومیسر سره اوتاکید دے په دریے طریقوسره اول امرپه اطاعت سره دویم امرپه حذرسره دریم اشاره ده په استحقاق دَ عذاب اودفع دَعذرسره ﴿اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ﴾ مراد دَ دے نه عام دے په جمیع اوامرواو نواهی کښ اومسئله دَ خمراومیسرهم دیکښ داخل ده واطیعوالرسول کښ اشاره ده چه تفصیل اوتفسیردَخمردپاره احادیث دَ نبیﷺ ته رجوع کول ضروری دی ﴿وَاحْذَرُوْا﴾ بچ شئ دَ مخالفت دَ اللّٰه تعالیٰ او رسول نه۔حذرکښ معنیٰ دَ ترك ده دَ یو څیز دَ وجے دَ یرے نه۔

[۹۳] په دے ایت کښ جواب دَیوسوال دے چه امام بخاری اوامام ترمذی ذکرکړے دے یعنی روستوَ تحریم دَ خمراومیسر نه بعضے صحابوسوال اوکړوچه څه حال دے دَ هغه صحابو چه شهیدان شول په اُحدکښ اودَ هغوی په خیټوکښ شراب اومال دَ میسرپروت وونوپدے ایت کښ جواب اوشو(تنبیه) په تکرارَ تقویٰ کښ دِیراقوال دی اول قول، اوله تقویٰ دَ هغه څیزونونه چه حرام وی په وخت دَ اباحت دَ خمراومیسرکښ دویمه تقویٰ دَ ریا اوسمعت نه دریمه تقویٰ دَ نسبت دَ عملونونه خپل ځان ته په طورَ عجب اوتکبرسره دویم قول، اوله تقویٰ دَکفراوشرك نه دویمه دَکبائروګناهونونه دریمه دَ صغائرو او شبهاتونه۔ په تکرار دَ ایمان کښ هم اقوال دی، اول قول په اول ایمان کښ اصول دَ ایمان مراد دی اوپه دویم کښ زیادت دَ ایمان اوپه دریم کښ دوام دَ ایمان ترمرګه پورے دویم قول اول ایمان توحید دے دویم ایمان په تحریم دَ خمراومیسر باندے دے دریم ایمان ثبات اواستقامت دے په هغے باندے اوتکرارَ عمل صالح دوه قسمونوته اشاره ده اول فرائض واجبات اودویم سنن اومستحبات۔

فَلَهٗ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۹۴﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَقْتُلُوا الصَّيْدَ وَاَنْتُمْ حُرُمٌ ؕ وَمَنْ قَتَلَهٗ مِنْكُمْ مُّتَعَمِّدًا
فَجَزَآءٌ مِّثْلُ مَا قَتَلَ مِنَ النَّعَمِ يَحْكُمُ بِهٖ ذَوَا عَدْلٍ مِّنْكُمْ هَدْيًا بٰلِغَ الْكَعْبَةِ اَوْ كَفَّارَةٌ طَعَامُ مَسٰكِيْنَ
اَوْ عَدْلُ ذٰلِكَ صِيَامًا لِّيَذُوْقَ وَبَالَ اَمْرِهٖ ؕ عَفَا اللّٰهُ عَمَّا سَلَفَ ؕ وَمَنْ عَادَ فَيَنْتَقِمُ اللّٰهُ مِنْهُ ؕ
وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ ذُو انْتِقَامٍ ﴿۹۵﴾ اُحِلَّ لَكُمْ صَيْدُ الْبَحْرِ وَطَعَامُهٗ مَتَاعًا لَّكُمْ وَلِلسَّيَّارَةِ ۚ وَحُرِّمَ عَلَيْكُمْ

پس دهٔ لره عذاب درد ناك دے(۹٤) اے ایمان والو مه وژنئے بنکاراو حال دا چه تاسو احرام کښ یئ او چاچه او وژلوبنکار ستاسونه په قصد سره پس په دهٔ باندے بدله دهٔ پشان دَ هغه چه دهٔ قتل کړے وی دَ څارؤونه فیصله به کوی په هغے سره دوه انصاف والا ستاسونه هدیه به وی رسیدونکے کعبے ته یابه کفاره وی خوراك دَ مسکینانو یابرابر دَ دے روژے وی دَ دے دپاره چه اوڅکئ سزا دَکارخپل، معافی کړے ده اللّٰه تعالیٰ دَ هغه نه چه مخکے شوی دی اوخوك چه رااوګرځیدلو(حلال ګنړلودَ بنکارته) پس بدله به واخلی اللّٰه تعالیٰ دَ هغه نه اواللّٰه تعالیٰ زورآوربدله اغستونکے دے (۹۵) حلال کړے شوے دے تاسولره بنکارکول دَ اوبو اوخوراك دَ هغے فائده ده تاسو لره اوقافلے والولره، اوحرام کړے شوے دے په تاسوباندے

[۹٤] هرکله چه په (۸۷)کښ ئے هغه څیزونه ذکرکړل چه همیشه حلال دی اوپه (۹۰)کښ هغه ذکرکړل چه روستودَ تحریم نه همیشه حرام وی نواوس هغه څیزونه ذکرکوی چه دَ خاص مکان یا حالت دَوجے نه حرام وی اوبل ځائے او وخت کښ حلال وی اودَهغے نه تعبیرکیدیشی په تحریمات الٰهیه سره ﴿يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَيَبْلُوَنَّكُمُ اللّٰهُ﴾ ټول احکام الٰهیه چه انسانان په هغے سره مکلف وی نوهغے ته ابتلاء وئیلے شی بیا چه دَ عصیان سبب قریب موجود شی اوپه طاعت کولوکښ مشقت وی نودا ابتلاء سخته ده۔ نودلته هم روستولفظ تَنَالُهٗ کښ چه بنکارکول آسان دی لیکن اللّٰه تعالیٰ حرام کړے دے او دا ابتلاء دَ بنکارپشان دَ ابتلاء دَ بنی اسرائیلو ده لیکن هغوی په ابتلاء کښ ناکام شول اودا اُمت په دے ابتلاء کښ کامیاب دے الّاما شاء اللّٰه۔ اودلته خطاب دے هغه مؤمنانوته چه په حرم کښ وی یا په احرام کښ وی۔﴿بِشَیْءٍ مِّنَ الصَّیْدِ﴾ خازن او زمخشری وئیلی دی چه په دے کښ اشاره ده چه دا ابتلاء لکه اوآسانه ده په نسبت دَ نوروعظیم فِتنوچه په هغے کښ اکثرخپے خوئیږی ﴿تَنَالُهٗۤ اَیْدِیْكُمْ﴾ یعنی واړه بچی او اګئ او هغه چه رفتار ئیے کمزورے وی نوانسان ئیے په لاسوسره نیولے شی او ایدیکم کښے داخل دی جالونه اچول او دا مونه خځول ﴿وَرِمَاحُكُمْ﴾ یعنی لوئے څاروی دَ بنکار چه تیخته کولے شی او بدن ئیے هم غټ وی نوبغیردَ نیزے نه نه راتینګیږی ﴿لِیَعْلَمَ اللّٰهُ﴾ داعلت غائي دَ ابتلاء دے اومراد دَ یعلم نه اظهار اوتمیزدے په علم دَخلقو کښ اګرچه اللّٰه تعالیٰ ته دَمخکے نه معلوم دی﴿مَنْ یَّخَافُهٗ بِالْغَیْبِ﴾داخوف ایمانی دے چه دَوجے دیرے دغضب اوعذاب دَ اللّٰه تعالیٰ نه دَ حرام صیدنه ځان ساتی﴿فَمَنِ اعْتَدٰی﴾مراد دَ دے نه بنکارکول دی په حالت دَاحرام یا حرم کښ۔

[۹۵] په دے کښ تفصیل دَحکم دَ بنکارکولودے په حالت دَ احرام کښ اودا دُنیوی عذاب (سزا) دے۔ ﴿لَا تَقْتُلُوْا﴾ دا بیان دَ ابتلاء دے په طریقه دَ نهی سره اوقتل عام دے که په ذبح کولوسره وی که په مرئے خفه کولوسره وی۔ اودا عام دے هریو دَ بنکار اوژوندی ځیزته، اودَ دے نه په حدیث دَ صحیحین کښ پنځه

صَيْدُ الْبَرِّ مَا دُمْتُمْ حُرُمًا ؕ وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِيْٓ اِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ ﴿۹۶﴾ جَعَلَ اللّٰهُ الْكَعْبَةَ الْبَيْتَ
الْحَرَامَ قِيٰمًا لِّلنَّاسِ وَالشَّهْرَ الْحَرَامَ وَالْهَدْيَ وَالْقَلَآئِدَ ؕ ذٰلِكَ لِتَعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا فِي
السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ وَاَنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿۹۷﴾ اِعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ وَاَنَّ اللّٰهَ

ښکارکول دَ اوچے څوپورے چه احرام والایئ او ویریږئ دَ اللّٰه تعالیٰ نه هغه ذات دے چه هغه ته به جمع کیدے شئے (۹۶) مقررکړے ده اللّٰه تعالیٰ کعبه کور عزت والا سبب دَژوند دپاره دَ خلقو اومیاشت عزت والا اوهدئے اوامیلونو والا څاروی، دادے دپاره چه تاسو یقین اوکړئے چه یقیناً اللّٰه تعالیٰ عالم دے په هغه څه چه په آسمانونوکښ دی اوهغه څه چه په زمکه کښ دی اویقیناً اللّٰه تعالیٰ په هرڅه باندے پوهه دے(۹۷) پوهه شئے چه یقیناً اللّٰه تعالیٰ سخت عذاب ورکؤونکے دے (نه منونکوته) او یقیناً اللّٰه تعالیٰ

څیزونه مستثنیٰ دی کارغه ،چپوس، لړم، منړك (مږه) حمله کوونکے سپے اومارهم په یوروایت کښ دَ لړم په ځائے ذکردے ﴿وَاَنْتُمْ حُرُمٌ﴾ دا عام دے نارینه او زنانوته اوکه په حرم کښ وی اوکه بهروی ﴿مَاقَتَلَ مِنَ النَّعَمِ﴾ مماثلت دوه قسمه دے یو مماثلت په شکل اوخلقت کښ دے اودویم مماثلت په قیمت کښ قول دَجمهور اهل علم دادے چه دَکوموځیزونومماثل صوری شته نوهغه به په جزاء کښ لازم وی اوچه مماثل صوری ئے نه وی نو بیا په بدل کښ قیمت اداکیږی اوقول دَ امام ابوحنیفهؒ دا دے چه مماثل دَ قیمت په هرحالت کښ مراد دے اول قول غوره دے ځکه چه دَ صحابه کرامونه روایات نقل دی په باره دَمماثلت صوری کښ ﴿بَالِغَ الْكَعْبَةِ﴾ مراد دَ کعبے نه حرم دے اوبلوغ نه مراد ذبح کول دی په حرم کښ ﴿اَوْ كَفَّارَةٌ طَعَامُ مَسَاكِيْنَ﴾ اوداکفاره ده دَ صید نه دَ هدی دَ عدم وجود نه نه ده یعنی قیمت دَ صید (قتل کړے شوی) باندے به طعام واخلی نوهغه به مسکینانوته ورکړی هرمسکین ته نیم صاع دَ غنمونه﴿اَوْ عَدْلُ ذٰلِكَ صِيَامًا﴾ یعنی دَ هرنصف صاع په ځائے دِ یوروژه اونیسی ﴿لِيَذُوْقَ وَبَالَ اَمْرِهٖ﴾ دا علت دَ دغه جزاء دے یا لفظ دَ شَرَعَ ذَالِكَ پټ دے، وَبَالَ په اصل کښ دروندوالی اوبوجھ ته وئیلے شی مراد ترینه سزا دَ جرم ده۔

[۹۶] مخکے حکم ذکرشوابتلاء په حالت دَ احرام کښ اودَ هغے سزا اوس دلته ذکرکوی ابتلاء په احرام کښ په تقسیم دَ صید سره ﴿اُحِلَّ لَكُمْ﴾ خطاب دے مسلمانانوته په عاموحالاتوکښ سره دَحالت دَ احرام نه ﴿صَيْدُ الْبَحْرِ﴾ هغه دے چه دَ هغے ژوند بغیرد اوبونه نشی کیدلے﴿وَطَعَامُهٗ﴾ فرق دا دے چه صید هغه دے چه تازه وی او طعام هغه دے چه مالګه ورباندے واچوی اودیروخت پورے ساتلے کیږی ﴿مَتَاعًا لَّكُمْ وَلِلسَّيَّارَةِ﴾ اول قسم په حال دَ حضرکښ اودویم قسم په حالت سفرکښ پکار راځی ﴿وَحُرِّمَ عَلَيْكُمْ صَيْدُ الْبَرِّ﴾ ښکارکول اوښکارذبح کول اوښکارخوړل (په دے شرط چه دَ هغه دپاره ښکارشوے وی یا هغه امرکړے وی) دا ټول حرام دی۔

[۹۷] دا په منزله دَعلت دے دَما قبل دپاره یعنی تحریم دَ صید دَ بر(اوچے) دپاره دَ احترام دَکعبے دے۔ ﴿الْبَيْتَ الْحَرَامَ﴾ دا عطف بیان دے دَالکعبة دپاره نه دپاره دَ توضیح ځکه چه لفظ کعبه دَ هغے نه ډیرواضح دے﴿قِيَامًا لِّلنَّاسِ﴾ یعنی نظام زندګی اودینی په دے سره قائمیږی اول داچه په هغے کښ امن دے اوهرقسم میوے اوغلے راوړل دی حرم ته نوحصول دَ امن اودَ لوګے نه بچ کیدل سبب دَ حیاة طیبه دے اودویم (قیام

غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۹۸﴾ مَا عَلَى الرَّسُوْلِ اِلَّا الْبَلٰغُ ؕ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا تُبْدُوْنَ وَمَا تَكْتُمُوْنَ ﴿۹۹﴾ قُلْ لَّا يَسْتَوِى
الْخَبِيْثُ وَالطَّيِّبُ وَلَوْ اَعْجَبَكَ كَثْرَةُ الْخَبِيْثِ ۚ فَاتَّقُوا اللّٰهَ يٰٓاُولِى الْاَلْبَابِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿۱۰۰﴾ يٰٓاَيُّهَا
الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَسْـَٔلُوْا عَنْ اَشْيَآءَ اِنْ تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ ۚ وَاِنْ تَسْـَٔلُوْا عَنْهَا حِيْنَ يُنَزَّلُ الْقُرْاٰنُ

بخونکے دے رحم کړونکے(منونکوباندے) (۹۸) نیشته په رسول باندے مګر رَسول دی، اوالله تعالی پوهه دے په هغه څه چه ښکاره کوے تاسو اوپه هغه څه چه پټوئے تاسو(۹۹) اُوایه: نه دی برابر پلیت او پاك اګرچه تعجب کښ اچوی تاله ډیروالے دَ پلیت، پس اویریږئ دَ الله تعالی نه اے خالص عقل والو دے دپاره چه کامیاب شئے (۱۰۰) اے ایمان والو: تپوس مه کوئ دَ داسے څیزونو که ښکاره شی تاسوته (جواب دَ هغے) خفه به کړی تاسو اوکه تپوس کوئے دَ دغه څیزونوکوم وخت چه نازلیدیشی قرآن

دینی) دَ دے وجے نه دے چه په حج اوعمرے سره اقامت دَ دین رائجی اوپه دے لفظ کښ اشاره ده چه ترڅوپورے کعبه په مخ دَ زمکے باندے موجود وی نودُنیا به نه فناکیږی ﴿وَالشَّهْرَ الْحَرَامَ﴾ دا اسم جنس دے مراد دَ دے نه څلورمیاشتے دی محرم، ذوالحجه، ذوالقعده، او رجب دا هم قیام دے په سبب دَ حرمت دَ قتال سره په هغے کښ اویوبل له امن ورکول ﴿وَالْهَدْيَ وَالْقَلَآئِدَ﴾ قلائد هغه هدایا چه حرم ته اوړلے شی اودَهغے په غاړه څه امیل آویزان کړی اودا هم سبب دَ امن دے دَ دغه هدایواودَهغه محرم شخص چه سفرکوی حرم ته۔ اوبعضے کسانوبه ځان ته هم داسے قلاده اچوله په وخت دَ سفرکولوکښ حرم ته دا دَجاهلیت رواج وڅاسلام کښ داخاص دے په ځاروڅ پورے۔

[۹۸] په دے کښ تاکید دے دَ پاره دَ عمل کولو په ماقبل احکامو باندے چه په مخالفت کولو سره تخویف او په موافقت کولو سره بشارت دے او اشاره ده چه ایمان په مینځ دَ خوف او رجا کښ دے۔

[۹۹] په دے کښ هم تاکید دے دپاره دَ عمل کولوپه ماقبل احکاموباندے په دوه طریقوسره اوله ﴿مَاعَلَى الرَّسُوْلِ اِلَّاالْبَلَاغُ﴾ یعنی ستاسوعذرپه کوتاهئ کولوسره قبول نه دے بلکه دَ رسول په بلاغ سره په تاسوباندے حجت قائم شو۔ دویمه طریقه ﴿وَاللّٰهُ يَعْلَمُ﴾ یعنی احوال ظاهری اوباطنی اوموافقت اومنافقت ستاسو پیژنی۔

[۱۰۰] روستودَ تاکیداتونه ترغیب دے صالح عقائدو اواعمالو اواخلاقوته اوتحذیردے دَ خبیث نه او پدیکښ جواب دَ وهم دے هغه دا دے چه خلق په عامو حالاتواوکارونوکښ صرف کثرت ته اعتبار ورکوی لکه جمهوریت په دے زمانه کښ؟ حاصل دَ جواب دا دے چه پاك پلیت فرق ضروری دے کثرت ته اعتبار نیشته لکه په سورة انعام (۱۱۷) کښ دی ﴿اَلْخَبِيْثُ وَالطَّيِّبُ﴾ خبیث ئے مقدم کړودَکثرت دَ وجے نه اودا دواړه الفاظ عام دی ﴿وَلَوْ اَعْجَبَكَ كَثْرَةُ الْخَبِيْثِ﴾ دا اعجاب طبعی غیراختیاری دے نونبی ﷺ ته خطاب دے یا مراد دَ دے نه خوشحالی اوتکبرکول دی نوخطاب هرهغه مخاطب ته دے چه خبیث اوطیب کښ فرق نه کوی۔

تُبْدَ لَكُمْ ؕ عَفَا اللّٰهُ عَنْهَا ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ حَلِيْمٌ ﴿۱۰۱﴾ قَدْ سَاَلَهَا قَوْمٌ مِّنْ قَبْلِكُمْ ثُمَّ اَصْبَحُوْا بِهَا كٰفِرِيْنَ ﴿۱۰۲﴾
مَا جَعَلَ اللّٰهُ مِنْۢ بَحِيْرَةٍ وَّلَا سَآئِبَةٍ وَّلَا وَصِيْلَةٍ وَّلَا حَامٍ ۙ وَّلٰكِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا يَفْتَرُوْنَ عَلَى
اللّٰهِ الْكَذِبَ ؕ وَاَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُوْنَ ﴿۱۰۳﴾ وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ تَعَالَوْا اِلٰى مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ وَاِلَى الرَّسُوْلِ

ښکاره به شی تاسوته (جواب دَ هغے) معافے کړے دے اللّٰه تعالیٰ دَ هغه (تپوسونونه) اواللّٰه تعالیٰ بخونکے صبرکؤونکے دے (۱۰۱) یقیناً تپوس کړے ؤو دَ داسے خیزونو یوقوم مخکے ستاسونه بیاشول دوی په وجه دَ هغے کافران (۱۰۲) نه ده جائزکړے اللّٰه تعالیٰ څه غوږ شلیدلے اونه آزاده پریخودلے شوے اونه پیوست کړے شوے اونه بچ شوے شاوالا لیکن کافرخلق جوړه وی په اللّٰه تعالیٰ باندے دروغ او اکثرد دوینه عقل نه لری(۱۰۳) اوکله چه اُویلے شی دویته راشئے هغے ته چه نازل کړے دے اللّٰه تعالیٰ او(راشئ) رسول ته

[۱۰۱] ربط دا دے هرکله چه دَ خبیث او طیب په فرق ایزده کولوباندے تیزی ورکړے شوه نو اوریدونکودَ هغے وجے نه ډیر تپوسونه شروع کړل نواوس دَ تپوس کولوادب ذکرکوی ﴿یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا﴾اشاره ده چه مقتضیٰ دَ ایمان داده چه فرق اوکړے شی په مینځ دَ ضروری اوغیر ضروری مسائلو کښ﴿لَا تَسْـَٔلُوْا عَنْ اَشْیَآءَ اِنْ تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ﴾ په دے کښ سوال دَعبداللّٰه بن حذافه داخل دے چه سوال ئے دَ نبی ﷺ نه په باره دَپلارخپل کښ (من اَبی) کړے وؤبخاری اومسلم روایت کړے دے۔ دارنګه ابن حجر فتح الباری کښ وئیلی دی چه په دے کښ هغه سوالونه چه په طریقه دَ استهزاء وی یا په طریقه دَ امتحان وی یا په طریقه دَ تعنت (ضد) وی هم داخل دی ﴿اِنْ تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ﴾ یعنی چه جواب اوشی نوبیا تپوس کوؤنکے خفه وی او دا جمله صفت مقیده دے دَاشیاء دپاره ، او دا قید احترازی نه دے نومعلومه شوه چه ضروری تپوس کول خوپکاردی ﴿وَاِنْ تَسْـَٔلُوْا عَنْهَا حِیْنَ یُنَزَّلُ الْقُرْاٰنُ تُبْدَ لَكُمْ﴾ په دے کښ دَ مفسرینو اول قول دادے چه زجردے اوتاکید دَلاتسألوا دے یعنی دَ قرآن نزول شروع دے اوتاسو دغه بے ضرورته تپوسونه کوئے نوضرورربه په قرآن کښ جواب راځی اوتاسو به بیا خفه یئ نو ولے داسے تپوسونه کوئے۔ دویم قول دَ خازن دے یعنی که تاسوصبراوکړوتردے چه په قرآن کښ یوحکم نازل شی اودَ هغے شرحے ته محتاج یئ نوتپوس اوکړئے نوجواب به درکړے شے نوبنا په دے تفسیرترغیب دے سوال کولوته په وخت دَ ضرورت کښ ﴿عَفَا اللّٰهُ عَنْهَا﴾ داجمله مستانفه ده او اشاره ده چه دا قسم تپوسونه ګناه دے لیکن اللّٰه تعالیٰ (دَ نهی دَ نزول نه وړاندے) هغه تاسوته معاف کړی دی۔

[۱۰۲] په دے کښ اشاره ده دویمے وجے دَنهی دَ سوال ته۔ اوقوم نه مراد بنی اسرائیل اونورمکذبین دی لکه قوم صالح علیه السلام معجزه دَ ناقے (اوښے) طلب کړے وه اوقوم دَ موسیٰ علیه السلام رویت دَ اللّٰه تعالیٰ طلب کړے وؤ اوقوم دَ عیسیٰ علیه السلام مائده طلب کړے وه ﴿قَدْ سَاَلَهَا قَوْمٌ﴾ مراد دَ دے نه سأل مثلها دے او مماثلت په دے کښ دے چه بے ضرورته وؤاوسبب دَ خفګان او وبال وؤ۔

[۱۰۳] ربط دا دے چه مخکے ذکرشوه چه داسے سوالونه مکوئے چه سبب دَ تحریم دَ څیزونواوګرځی نواوس منع کوی دَ باطل تحریم کولونه په مستقل طورسره اواشاره ده چه بے ضرورته بحثونه مکوئے هاں ردکوئے په رسمونوشرکیوباندے چه دا ضروری خبره ده نو پدے آیت کښ رد دے په تحریم لغیر اللّٰه تعالیٰ۔

قَالُوْا حَسْبُنَا مَا وَجَدْنَا عَلَيْهِ اٰبَآءَنَا ؕ اَوَلَوْ كَانَ اٰبَآؤُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ شَيْـًٔا وَّلَا يَهْتَدُوْنَ ﴿۱۰۴﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا عَلَيْكُمْ اَنْفُسَكُمْ ۚ لَا يَضُرُّكُمْ مَّنْ ضَلَّ اِذَا اهْتَدَيْتُمْ ؕ اِلَى اللّٰهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيْعًا فَيُنَبِّئُكُمْ

وائی دوی پوره ده مونږ له هغه لار چه موندلی دی مونږ په هغے باندے مشران خپل ایا اګرچه ۋو مشران دَ دوی نه پوهیدل په څه شی دَ دین باندے اونه ئے صحیح لار موندلے وه (۱۰٤) اے ایمان والو: لازم ده په تاسو باندے ذمه واری دَ ځانونو ستاسو ضرر نه درکوی تاسوته هغه څوك چه ګمراه وی کله چه تاسو هدایت اوموندلوخاص اللّٰه تعالیٰ ته ګرځیدل ستاسو دَ ټولو دی پس خبربه درکړی تاسوته

﴿مَاجَعَلَ اللّٰهُ﴾ دلته دَ جعل نه مراد حکم اوشرع جوړول دی (مَاشَرَعَ۔ مَاحَکَمَ۔ مَاأَمَرَ) ﴿مِنْ بَحِيْرَةٍ﴾ قرطبی دَ سعید بن المسیب نه نقل کړے دے چه بحیره هغه مؤنث څاروئے (اوښه، غوا، بیزه) چه دَ هغے پئی دپاره دَ الٰهۂ باطله بندکړی یعنی څوك ئے ځان دپاره لوشلے نه شی اودَ هغے غوږئے سیرے کړے وی دَ نبے پے طورباندے ﴿وَلَا سَآئِبَةٍ﴾ قرطبی اوخازن وغیره ذکرکړی دی چه جاهلیت کښ به څوك بیمارشویا به ئے څوك قریب خپلوان روك شونودوی به دَ اللّٰه تعالیٰ په نوم دَ یواوښے نذراوکړونوهغه به ئے ازاده پریخودله چه په هغے باندے به ئے بار اوړل، سورلی کول منع ګنړل اوهرچاله دَ اوبواوفصل نه دَ هغے منع کول ئے سبب دَ ضرر ګنړلو ﴿وَلَا وَصِيْلَةٍ﴾ خازن وئیلی دی چه دابیزه (چیلئی) وه چه اوو[۷] کرته به لنګه شوه نوکه اُوم[۷] به نروۂ نوذبح به ئے کړو او دوی به نارینه اوزنانه دپاره حلال ګنړلواوکه مؤنث به وۂ نو په ګلهوبیزو کښ به ئے پریخودلواوکه جوړه به پیدا شوه نو دوی به وئیل وَصَلَت اَخَاهَا (دامؤنث دَ خپل رورپه حکم کښ شوه) نودواړه به ئے نه ذبح کول ﴿وَلَا حَامٍ﴾ قرطبی وئیلی دی دا هغه اوښ مذکر وۂچه لس اوښے به د هغه نه بلارے (مال) شوے نو دوی به دَ هغه په ملابانديے دَ طاؤس وزر اولګوۂ اوپه هغه باندے به ئے سورلی کول اوبار اوړل منع کړل اودَ اوبواوګیا نه به نه شو منع کیدلے آزاد به پریخودلے شو اوامام بخاری وئیلی دی چه دابه ئے هم دَ طواغیت په نوم باندے پریخودلو ﴿وَلٰكِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا يَفْتَرُوْنَ عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ﴾دا جواب دَ وهم دے چه هرکله اللّٰه تعالیٰ داحکم نه دے کړے نودغه خلقوداکارونه ولے کول؟ حاصل جواب دا دے چه دوی اللّٰه تعالیٰ ته په دروغه نسبت کوۂچه مونږته اللّٰه تعالیٰ داسے حکم کړے دے اودا دین ابراهیمی دے۔

فائده: په حکم شرعی دَ بحیره، سائبه، وصیله اوحام کښ اختلاف دے دَ اهل علمواکثرو وئیلی دی چه دا شرعاً حلال دی اوپه تحریم دَ خلقوسره دانه حرامیږی لکه چه دَ نوروتحریمات لغیراللّٰه حکم دے اوبعضو وئیلی دی چه دا ټول حرام دی هغوی وائی ما جعل په معنیٰ دَ مااحلّ دے۔

[۱۰٤] په دے کښ زجردے په تقلیدکولودَ جاهلانواوابطال دے دَ دلیل دَ باطل پرستانوچه اتباع دَ آباؤده یعنی دوی په شرکیاتواوپه جوړولودَ بحیره سائبه وغیره کښ دلیل شرعی نه لری بلکه دلیل ئے طریقه دَ مشرانوده ﴿وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ﴾ مجهول صیغه دپاره دَ تعمیم دَ قائلانوده یعنی چه هرڅوك اوهر وخت چه هغوی ته دا دعوت ورکړے شی ﴿تَعَالَوْا﴾ دا لفظ دَ خپلے مادے(علو)په وجے سره په هغه آوازکښ ذکرکیدیشی چه ترقئی طرف ته بلنه وی ﴿اِلٰى مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ وَاِلَى الرَّسُوْلِ﴾ اشاره ده چه قرآن اوحدیث

بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۰۵﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا شَهَادَةُ بَيْنِكُمْ اِذَا حَضَرَ اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ حِيْنَ الْوَصِيَّةِ اثْنٰنِ ذَوَا عَدْلٍ مِّنْكُمْ اَوْ اٰخَرٰنِ مِنْ غَيْرِكُمْ اِنْ اَنْتُمْ ضَرَبْتُمْ فِى الْاَرْضِ فَاَصَابَتْكُمْ مُّصِيْبَةُ الْمَوْتِ ۭ تَحْبِسُوْنَهُمَا مِنْۢ بَعْدِ الصَّلٰوةِ فَيُقْسِمٰنِ بِاللّٰهِ اِنِ ارْتَبْتُمْ لَا نَشْتَرِيْ بِهٖ ثَمَنًا وَّلَوْ كَانَ ذَا قُرْبٰى ۙ وَلَا

په هغه عملونو چه کوئے ئے تاسو (۱۰۵) اے ایمان والو: وصی جوړه ول دَ مینځ ستاسو کله چه نزدے شی یو تن ستاسوته مرګ په وخت دَ وصیت کولودوه تنه دِ وی انصاف والا ستاسونه یانور دوه تنه سیوا ستاسونه که تاسو سفرکوئے په زمکه کښ پس اورسی تاسوته مصیبت دَ مرګ حصارَوئے به دے دواړو لره روستودَ مانځه (دَماذیګرنه) پس قسم به کوی دواړه په اللّٰه تعالٰی که شك کوئے تاسو (وائی به دوی) نه اخلو مونږ په دے سره عوض اګرچه وی خپلوان اونه

دواړه مستقل شرعی دلیلونه دی معلومه شوه چه حجت په دین کښ قرآن اوحدیث دے اواجماع اوقیاس ځوپه دغے دواړو باندے بنادی که دَ دے نه مستند وی نوهغه اجماع او قیاس مقبول دے اوکه دَ دے نه مستند نه وی نو مردود دی ﴿قَالُوْا حَسْبُنَا مَا وَجَدْنَا عَلَيْهِ اٰبَآءَنَا﴾ په لفظ دَ حسبنا کښ ډیرتاکید دَ جهل دَ هغوی دے یعنی قرآن اوسنت ته حاجت نه ګنړی ځکه چه طریقه دَ مشرانوپوره ګنړی۔ آباء نا مراد دَ دے نه دَ دوی دَ مسلك علماء اومشران دی لکه چه راغب په مفردات کښ لیکلی دی ﴿اَوَلَوْ كَانَ اٰبَآؤُهُمْ﴾ حاصل دا چه تابعداری (دَ هغه آباؤ چه عالمان اوهدایت والاوی) په کارونودَ شرك کښ او په بے دلیله خبرو کښ جائزنه ده نوچه بے علمه اوبے هدایته وی نوپه طریقه اولی سره جائز نه ده ﴿لَا يَعْلَمُوْنَ شَيْئًا﴾ مراد دَ شئی نه دلیل اوحق دے ﴿وَلَا يَهْتَدُوْنَ﴾ مراد دَ اهتداء نه عمل کول دی په دلیل شرعی باندے یعنی نه عالمان دی اونه هدایت والادی بلکه جاهلان اوګمراهان دی۔ اوخازن، رازی اونسفی وغیره دلته لیکلی دی چه معلومه شوه چه اقتداء دَ عالم مهتدی صحیح ده په دے شرط چه قول دَهغه په حجت اوبرهان اودلیل باندے بناوی نوکه عالم مهتدی وی لیکن یوقول ئیے بے دلیله وی نودَ هغه تقلید هم جائزنه دے نودا آیت دلیل دے په رد دَ تقلید باندے په شرعیاتوکښ ځکه چه تقلید په معنیٰ دَ قبلولودَ قول دَ غیردی په شرعیاتوکښ بغیردَ دلیل یا دَ معرفت دَ دلیل نه۔

[۱۰۵] ربط دَ دے آیت دَ مخکے سره قرطبی دَ جابربن زید نه نقل کړے دے هغه دا دے چه هرکله به یوکس اسلام راوړو نوکافرانوبه ورته وئیل چه تاخپل مشران کم عقل اوګنړل اوګمراه دِ اوګنړل نوکه زمونږمشران بے علمه بے هدایته وؤنو ستاسومشران هم داسے وؤنوپدے ایت کښ دَ هغے جواب ذکرکوی ﴿عَلَيْكُمْ اَنْفُسَكُمْ﴾ علیکم اسم فعل دے په معنیٰ دَ الزموا سره یعنی لازم اونیسئے اصلاح دَ خپلوځانونوپه تابعدارئے دَکتاب اوسنت سره (کله چه مخالفین ئے نه منی) مهائمی معنیٰ لیکلے چه په تاسوباندے اصلاح دَخپلونفسونولازم ده په اتباع دَکتاب اوسنت اوپه دعوت کولواو امربالمعروف اونهی عن المنکر کولو سره په هغے کښ کوتاهی مه کوئے نودَ هغے نه روستو چه څوك ګمراهی کوی نوپه تاسو هیڅ وبال نیشته نو دا ایت صریح دے په وجوب دَ امربالمعروف اونهی عن المنکرباندے ﴿لَا يَضُرُّكُمْ مَّنْ ضَلَّ﴾ یعنی دَ هغوی دَګناه په تاسو باندے اثرنه پریوځی که هغوی حسبنا ماوجدنا اه وائي یا عنادکوی په قول اوپه

نَكْتُمُ شَهَادَةَ اللّٰهِ اِنَّآ اِذًا لَّمِنَ الْاٰثِمِيْنَ ﴿۱۰۶﴾ فَاِنْ عُثِرَ عَلٰٓى اَنَّهُمَا اسْتَحَقَّآ اِثْمًا فَاٰخَرٰنِ يَقُوْمٰنِ مَقَامَهُمَا مِنَ الَّذِيْنَ اسْتَحَقَّ عَلَيْهِمُ الْاَوْلَيٰنِ فَيُقْسِمٰنِ بِاللّٰهِ لَشَهَادَتُنَآ اَحَقُّ مِنْ شَهَادَتِهِمَا وَمَا اعْتَدَيْنَآ ۖ اِنَّآ

پټوو مونږ شهادت دَ الله تعالیٰ یقیناً مونږپه دغه وخت خامخا دَ ګنهګارونه یو(۱۰۶) پس که خبر اوکړے شوپه دے خبره چه یقیناً دے دواړو کړے دے ګناه (په دروغ قسم کولو سره) پس نور دوه کسان اودریږی به په ځائے دَ دے دواړودَ هغه کسانونه چه دعویٰ دَ حق شوے ده په هغوی باندے چه نزدے وی دا دواړه مړیته پس قسم به کوی په الله تعالیٰ چه خامخا زمونږ بیان رشتینے دے دَ بیان دَ دغه دواړونه او زیاتے نه دے کړے مونږ یقیناً مونږ به

عمل۔ دارنګ ستاسوهغه مشران چه ګمراه تیرشوی دی دَ هغوی دَګمراهئی په تاسو باندے عیب اوګناه نیشته ﴿اِذَا اهْتَدَيْتُمْ﴾ اهتداء داده چه تاسواتباع دَ قرآن اوسنت کوئے اوامربالمعروف اونهی عن المنکردَ خپل طاقت موافق کوئے ﴿فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ﴾ مراد دَ نباء نه جزا اوسزا ورکول دی اوشربینی وئیلی دی چه اشاره ده چه هیڅوك دَ بل چاپه ګناه باندے نشی نیولے کیدلے۔

[۱۰۶] ربط دادے چه مخکے ایت کښ ئے حفاظت دَ نفوسوذکرکړونوپه دے ایت کښ حفاظت دَ مالونو ذکرکوی په طریقه دَ وصیت اودَ قسم سره ﴿يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا﴾ اشاره ده چه معاملات مالیه په شرعی طریقے سره حل کول دَ ایمان تقاضا ده ﴿شَهَادَةُ بَيْنِكُمْ﴾ مراد دَ شهادت نه اشهاد (حاضرول) دی په وخت دَ وصیت کښ او بعضو وئیلی دی چه مراد دَ دے نه قسم دے ﴿اِذَا حَضَرَ اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ﴾ حضرپه معنیٰ دَ قرب دے (نزدے شی) یامراد دَ دے نه دا دے چه اسباب دَ مرګ حاضرشی اودا تاویل دَ دے وجے نه کیږی چه هرکله مرګ حاضرشی نوبیا خوخبرے نشی کولے﴿حِيْنَ الْوَصِيَّةِ﴾ په دے کښ تنبیه ده په اهتمام دَ وصیت باندے اودلته وصیت کول په مال سره نه دی بلکه وصی ګرځول په باره دَ مال کښ دی۔ ﴿ذَوَا عَدْلٍ مِّنْكُمْ﴾ یعنی اسلام اوعدالت دواړه پکار دی عدل په مقابل دَ فسق کښ دے ﴿اَوْ اٰخَرٰنِ مِنْ غَيْرِكُمْ﴾ په دے کښ دَ اهل علمواختلاف دے اکثرو وئیلی دی چه مراد دَ دے نه غیرمسلم دی اوبعضو وئیلی دی چه مراد دَ منکم نه ستاسو اقرباء او غیرکم نه مراد اجانب (پردی) دی ﴿اِنْ اَنْتُمْ ضَرَبْتُمْ فِي الْاَرْضِ﴾ اشاره ده چه داسے ضرورت په وخت دَ سفرکولوکښ پیش راځی﴿تَحْبِسُوْنَهُمَا﴾ اشاره ده چه دوی مدعا علیهما اوګرځی نودوی دَ تختیدلوکوشش کوی دَ دے وجے نه لفظ حبس ئے ذکرکړو ﴿مِنْ بَعْدِ الصَّلٰوةِ﴾ مونځ دَ ما زیګرمراد دے یا مطلق مونځ دے ﴿فَيُقْسِمَانِ بِاللّٰهِ﴾ یعنی په دوی باندے دعویٰ چه اوکړے شی په باره دَ خیانت کولوسره په وصیت ادا کولوکښ اودوی ترینه انکاراوکړی اونورګواهان دَ مدعی دپاره نیشته نومنکرباندے قسم وی نودَ دے وجے نه دوی به قسم کوی او دا دلیل دے چه قسم په الله تعالیٰ پورے خاص دے اګر چه اهل ذمه کافروی نوهم به قسم ورکیدیشی په الله تعالیٰ سره ﴿اِنِ ارْتَبْتُمْ﴾ ارتیاب نه مراد په هغوی باندے دعویٰ کول دی په سبب دَ شك کولوسره په وصیت اداکولوکښ اشاره ده چه بغیرد دعویٰ نه مدعا علیه ته قسم نشی ورکیدلے ﴿لَا نَشْتَرِيْ بِهٖ ثَمَنًا﴾ دا جواب قسم دے اشتراء په معنیٰ دَ حصول دَ عوض ده اوثمنا په معنیٰ دَ عوض دُنیوی دے یعنی مونږ دَ الله تعالیٰ نوم دَ دے دپاره نه دے ذکرکړے چه

اِذًا لَّمِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۰۷﴾ ذٰلِكَ اَدْنٰٓى اَنْ يَّاْتُوْا بِالشَّهَادَةِ عَلٰى وَجْهِهَآ اَوْ يَخَافُوْٓا اَنْ تُرَدَّ اَيْمَانٌۢ بَعْدَ اَيْمَانِهِمْ ؕ

دغه وخت دَ ظالمانونه یو (۱۰۷) دا طریقه بنه نزدے ده دیته چه راتلل به کوی دوی په شهادت سره په طریقه دَ هغے (دَ وجے دَیرے دَ اللّٰه تعالیٰ نه) یابه اویریږی چه واپس به شی قسمونه دَ دوی پس دَ قسم کولودَ دوینه

دُنیوی غرض پرے حاصلوؤ بلکه زمونږمقصد دَ حق اقامت دے ﴿وَلَا نَكْتُمُ شَهَادَةَ اللّٰهِ﴾ هغه شهادت چه اللّٰه تعالیٰ مونږته دَ هغے علم راکړے دے۔

[۱۰۷] دا تتمه دَ ماقبل ده یعنی حکم دے روستودَ سکاره کیدلودَ دروغونه په قسم کښ ﴿فَاِنْ عُثِرَ﴾ عثرة په اصل کښ غورزیدلوته وئیلے شی په یوځیزباندے اوپه معنیٰ دَ اطلاع هم رائحی لکه سورة کهف کښ (اَعْثَرْنَا عَلَيْهِمْ) ﴿اِسْتَحَقَّآ اِثْمًا﴾ استحقاق په معنیٰ دَکولودَ هغه فعل دے چه موجب اوسبب وی دَ یوکاردپاره اثما نه مراد گناه دَ خیانت دے په حصول دَ مال حرام سره یا په دروغه قسم کول دی۔ یعنی روستودَ فیصلے نه په قسم دَ منکرینوسره معلومه شی چه دا قسم دوی په دروغه کړے دے نوهغه فیصله به ماته کړے شی ﴿فَاٰخَرٰنِ﴾ دا صفت دے اوموصوف پټ دے یعنی رجلان آخران ﴿يَقُوْمَانِ مَقَامَهُمَا﴾ هما ضمیر راجع دے اثنان ته (یعنی چه اول قسم ئیے په دروغه کړے وؤ) اودا قیام په کولو دَ قسم کښ دے او دا په هغه وخت کښ ده چه روستودَسکاره کیدلو دَخیانت نه مخکښی دواړه کسان دعویٰ دَملکیت دَهغه ځیزاوکړی اوورته دَهغے نه انکار کوی نوحق دَ قسم ثابت شوپه ورځوباندے دَ انکار دَ وجے نه ﴿مِنَ الَّذِيْنَ اسْتَحَقَّ عَلَيْهِمُ﴾ من بیان د اخران دے استحق داپه معنیٰ دَ ثبت الحق علیهم دے او دَ حق نه مراد دعویٰ دَ ملکیت ده اوهغه سبب دَ قسم کولودے یعنی په سبب دَ دعویٰ دَ اول دواړه کسانودَ ملکیت حق ثابت شوپه ورځوباندے دَقسم کولو ﴿الْاَوْلَيٰنِ﴾ دا تثنیه دَ اولیٰ ده او اولیٰ په معنیٰ دَ اقرب دے یعنی هغه دوه وارثان چه مړی ته زیات نزدے وی په نسب کښ ﴿لَشَهَادَتُنَآ اَحَقُّ مِنْ شَهَادَتِهِمَا﴾ دا مضمون دَ قسم دَ دوی دے اوشهادت په معنیٰ دَ قسم دے احق په معنیٰ دَ صدق اوحق دا ردَ قبلولودے ﴿اِنَّآ اِذًا لَّمِنَ الظّٰلِمِيْنَ﴾ هرکله چه دویم قسم کښ زیات تاکید پکاردے دَوجے دَ ردکولودَ اول نه دَ دے وجے نه دلته ئیے ظالمین اوئیل اومخکے ئیے اثمین وئیلے وؤ حاصل دَمعنیٰ دَ دواړوآیاتونودا دے چه په حال دَسفرکښ په یوشخص باندے مرګ راشی اودَ دهٔ سره مال وی نودوه کسانو ملګروته دِ وصیت اوکړی هغوی په صفت دَګواهانو هم دی او وصیان هم دی اووصیت کښ دِ دا اُوائي چه ځمادا مال ځما ورځوته اورسوئے هغوی هغه مال چه ورځوته اورسوی اوورته ورباندے دَ خیانت دعویٰ اوکړی اودوی انکارکوی دَ خیانت نه نودوی باندے قسم کول لازم شول هر کله چه څه وخت روستو په څه وجے سره معلوم شی چه دوی واقعی خیانت کړے دے اوقسم ئیے په دروغه کړے وؤنو دوی دَ خیانت نه بچ کیدلودپاره دعویٰ اوکړی دَ ملکیت دَ هغه ځیزاوورځه دَ هغوی دَ ملکیت نه انکار اوکړی نوبیا به ورځوته قسم ورکړے شی که هغوی قسم اوکړونومخکنئ فیصله به ماته کړے شی اوهغه وصیان به دَ خیانت ذمه وارشی اوکه ورځوذَ قسم کولونه انکاراوکړونومخکنئ فیصله به په خپل ځائے باندے پاتے شی۔

وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاسْمَعُوْا ؕ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ﴿۱۰۸﴾ يَوْمَ يَجْمَعُ اللّٰهُ الرُّسُلَ فَيَقُوْلُ مَاذَآ
ع ۱۶ ۱۶ ۱۶

عَلَيْكَ وَعَلٰى وَالِدَتِكَ ۘ اِذْ اَيَّدْتُّكَ بِرُوْحِ الْقُدُسِ ۣ تُكَلِّمُ النَّاسَ فِي الْمَهْدِ وَكَهْلًا ۚ وَاِذْ عَلَّمْتُكَ
الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَالتَّوْرٰىةَ وَالْاِنْجِيْلَ ۚ وَاِذْ تَخْلُقُ مِنَ الطِّيْنِ كَهَيْـَٔةِ الطَّيْرِ بِاِذْنِيْ فَتَنْفُخُ فِيْهَا
فَتَكُوْنُ طَيْرًا بِاِذْنِيْ وَتُبْرِئُ الْاَكْمَهَ وَالْاَبْرَصَ بِاِذْنِيْ ۚ وَاِذْ تُخْرِجُ الْمَوْتٰى بِاِذْنِيْ ۚ وَاِذْ كَفَفْتُ
بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ عَنْكَ اِذْ جِئْتَهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ فَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْهُمْ اِنْ هٰذَآ اِلَّا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿۱۱۰﴾ وَاِذْ

نقد الارم

په تاباندے اوپه مور ستا باندے کوم وخت چه کلك کړے ماتهٔ په روح پاك سره خبرے دِکولے خلقوسره په غیږه دَ مورکښ اوپه پوخ عمر کښ اوکله چه اوخودلو ماتاته کتاب (قرآن) اوسنت او تورات او انجیل اوکله چه جوړ ولے تا دَ خټونه په شان دَ شکل دَ مرغئے په حکم ځما پس پوکے به کړو تاپه هغے کښ پس شوه به هغه مرغئے په حکم ځما اوجوړه ژوند او برګی والا په حکم ځما، اوکله چه راویستل تا(دَ زمکے نه) مړی په حکم ځما اوکله چه بندکړل ما بنی اسرائیل ستا(دَوژلونه) کله چه راوړو تادویته ښکاره معجزات پس اُویل کافرانو دَ دوینه نه دے دامګر جادو دے ښکاره (۱۱۰) اوکله چه

کښ نه په طور دَ دروغوځکه چه انبیاء علیهم السلام دَ دروغونه پاك اومعصوم دی۔ په دے دواړه جوابونوباندے بریلیانوخپل استدلال کړے دے یعنی دوی وائي چه انبیاء خو په غیب باندے علم لری لیکن دَ هیبت دَ وجے یا دَ تواضع دَ وجے نه ئے وئیلی دی چه لاعلم لنا؟ نوجواب به اوکړے (لَاعِلْمَ لَنَا بِمَا اَحْدَثُوْا بَعْدَنَا) په هغه کارونو اوبدعاتوچه دے خلقوروستودَ مرګ زمونږ نه پیداکړی دی اوتائید دَ دے حدیث دَحوض کوثردے چه بخاری او مسلم ذکر کړے دے چه په هغے کښ جواب دَ ملائکو اخری نبی ﷺ ته داسے دے (انك لا تدری ما احدثوا بعدك) یقیناً ته نه پوهیږے چه دے خلقوستانه روستوکم بدعات پیداکړی دی ﴿اِنَّكَ اَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوْبِ﴾ دا ایت صریح دلیل دے چه انبیاء علیهم السلام ترمرګ پورے عالم الغیب نه وؤاوکوم کارونه چه امتیان کوی دَ هغه اعمالونه هم انبیاء علیهم السلام خبرنه دی اوپه کوم حدیث کښ چه عرض دَ اعمالو (پیش کول) په نبی باندے ذکردے روستودَ وفات دَ هغه نه نوهغه حدیث دَ روافضو دے اوحدیث ضعیف دے۔

[۱۱۰]دا دلیل نقلی تفصیلی (خاص) دے دَ عیسیٰ علیه السلام په نفی دَ علم غیب سره دَ هغه نه روستودَ دلیل نقلی اجمالی نه ﴿اُذْكُرْ نِعْمَتِيَ عَلَيْكَ﴾ قرطبی وئیلی دی چه مراد دَ ذکرنه دا دے چه اُمت ته ئے بیان کړه دپاره دَ اظهاردَ عزت دَ موراوځوي اودپاره دَ تاکید دَ حجت دَ هغه۔ نعمتی، مفرد په معنیٰ دَ جنس دے چه په هغے کښ نبوت رسالت دَ هغه داخل دے﴿وَعَلٰى وَالِدَتِكَ﴾چه هغه دَ مس دَنارینه نه بچ ساتلے شوے ده اوپاك ساتلے شویده اوپه نورو زنانو باندے ئے غوره والے ورکړے وو ﴿اِذْ اَيَّدْتُّكَ﴾دا بدل دے دَنعمتی بدل بعض یعنی نعمتونه بے شماره دی لیکن دامذکورخاص نعمتونه دی﴿بِرُوْحِ الْقُدُسِ﴾ مصداق دَ دے جبرائیل علیه السلام دے چه دَعیسیٰ علیه السلام سره به هر وخت ګرځیدلو۔ یا مراد دَ دے نه روح اونفس دَعیسیٰ علیه السلام دے چه پاك وؤدَخیرودَ ګناه نه﴿تُكَلِّمُ النَّاسَ فِي الْمَهْدِ وَكَهْلًا﴾دابیان دَتائید دَهغه دے په ذکردَ خاص حال سره چه هغه تقویت دَ قوت نا طقه دے اومراد دَکلام نه دعوت الی اللّٰه دے (سوال) په کهولت کښ خوهرڅوك خبرے کولے شی نودَ دے

اَوْحَيْتُ اِلَى الْحَوَارِيّٖنَ اَنْ اٰمِنُوْا بِيْ وَبِرَسُوْلِيْ ۚ قَالُوْٓا اٰمَنَّا وَاشْهَدْ بِاَنَّنَا مُسْلِمُوْنَ ﴿۱۱۱﴾ اِذْ قَالَ الْحَوَارِيُّوْنَ
يٰعِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ هَلْ يَسْتَطِيْعُ رَبُّكَ اَنْ يُّنَزِّلَ عَلَيْنَا مَآئِدَةً مِّنَ السَّمَآءِ ؕ قَالَ اتَّقُوا اللّٰهَ اِنْ كُنْتُمْ
مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۱۱۲﴾ قَالُوْا نُرِيْدُ اَنْ نَّاْكُلَ مِنْهَا وَتَطْمَئِنَّ قُلُوْبُنَا وَنَعْلَمَ اَنْ قَدْ صَدَقْتَنَا وَنَكُوْنَ عَلَيْهَا مِنَ

واچولو ماپه زړونودَ حوارینو کښ چه ایمان راوړئے په ما اوپه رسول ځما اُوئیل دوی ایمان راوړے دے مونږ اوته ګواه شه چه یقیناً مونږه منونکی یو (۱۱۱) کله چه اُویل حواریانو: اے عیسیٰ ځویه دَ مریم آیا اوبه منی ستا رب چه را نازل کړی په مونږ باندے یو دسترخوان دَ اسمان نه اُوئیل هغه اویریږئے دَ اللّٰه تعالیٰ که تاسویئ مؤمنان(۱۱۲) اُوئیل دوی غواړو مونږ چه خوراك اوکړودَ هغے نه اوچه کلك شی زړونه ځمونږ او ښه پوهه شوچه تارشتیا وئیلی دی مونږته اوشوبه مونږه په هغے باندے دَ

حالت ذکرئے ولے اوکړو؟(جواب) په دے کښ ډیرے فائدے دی اول داچه دَکلام دَمهد اودَکهولت فرق نیشته دویمه داچه په عیسیٰ علیه السلام باندے هغه حالات راځی کوم چه په عام بشرباندے راځی (وړوکوالے زور والے وغیره) دریمه فائده بعض مفسرینو وئیلی دی چه دَ دهٔ نبوت اوبیا اسمان ته پورته کول دَ زمانے دَکهولت نه وړاندے وؤنوپه کهولت کښ دَکلام کولومقصد دادے چه دے به دَ اسمان نه راکوزیږی اوعمربه ئے دَکهولت وی اوکلام به کوی﴿الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ﴾ دَکتاب نه مراد ظاهری علم دے کوم چه لیکلے کیږی اوحکمت نه مراد هغه اسرار اوباطنی علم دے چه بغیر دَکتابت نه وی دویم قول دا دے چه دانعمت دَنزول دَعیسیٰ علیه السلام نه روستودے اومراد دَ دے نه قرآن اوسنت دَ نبی علیه السلام دے او﴿التَّوْرٰةَ وَالْاِنْجِيْلَ﴾ ورته مخکے دَ رفع الی السماء نه خودلے شوی وؤاول مکلف ووپه توراة باندے بیاروستوورته انجیل ورکړے شو﴿وَاِذْ تَخْلُقُ﴾داهم تفصیل دے دَنورونعمتونو۔اوپه دے کښ دویم قسم احتیاج دَ هغه ذکرکوی یعنی په تصرفاتومعجزانه کښ اللّٰه تعالیٰ ته محتاج وؤپه دلیل دَ لفظ دَ اِذنِی سره﴿وَاِذْ كَفَفْتُ﴾په دے سره هغه نعمت ذکرکوی چه په هغے کښ دفع دَ ضرر ده اوپه دے کښ دریم حاجت (په حفاظت دَهغه کښ)ذکرکړے دے یعنی هرکله چه بنی اسرائیلوته دغه معجزات ئے راوړل نوبعضے کسانوکفراوکړو اومعجزاتوته ئے سحراوئیل نوبیائے دَعیسیٰ علیه السلام دَ قتل کولوتدبیرونه جوړکړل نواللّٰه تعالیٰ دَهغوی دَشرنه بچ کړوپه رفع سره۔

[۱۱۱] روستودَ ذکرد نعمتونولازمه نه ذکرد متعدی نعمتونوکوی اوپه دے کښ دَ عیسیٰ علیه السلام ځلورم احتیاج الی اللّٰه ذکرکوی یعنی حواریین ملګری کول دَ عیسیٰ علیه السلام سره لکه چه زمونږدَ نبی علیه السلام صحابه هم اللّٰه تعالیٰ پیداکړی وؤدَ هغه دَ ملګرتیا اوتائید دپاره﴿ الْحَوَارِيّٖنَ﴾ جمع دَ حواری ده او ماخوذ دے دَ حورنه په معنیٰ دَ سپین والی نوحواری داسے دوست اوملګری ته وئیلے شی چه مخلص او راز داروی زړه ئے سپین وی(خالی دَمنافقت نه)﴿ قَالُوْٓا اٰمَنَّا وَاشْهَدْ بِاَنَّنَا مُسْلِمُوْنَ﴾ قاعده دا ده چه ایمان اواسلام یوځائے ذکرشی نوپه هغے کښ فرق مقصدوی نو ایمان صفت دَ زړه دے اواسلام نوم دَ ظاهری اعمالودے نودَ دے وجے نه ایمان ئے مخکے کړو په اسلام باندے۔

[۱۱۲] په دے ایت او وړپسے ایت کښ تمهید دے دپاره دَ دُعا دَ مائدے اودَ نزول دَ هغے اوپه دے واقعه

الشّٰهِدِيْنَ ﴿۱۱۳﴾ قَالَ عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ اللّٰهُمَّ رَبَّنَآ اَنْزِلْ عَلَيْنَا مَآئِدَةً مِّنَ السَّمَآءِ تَكُوْنُ لَنَا عِيْدًا لِّاَوَّلِنَا وَاٰخِرِنَا وَاٰيَةً مِّنْكَ ۚ وَارْزُقْنَا وَاَنْتَ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ ﴿۱۱۴﴾ قَالَ اللّٰهُ اِنِّيْ مُنَزِّلُهَا عَلَيْكُمْ ۚ فَمَنْ

ګواهی کؤونکونه (غائبانوته) (۱۱۳) اُوئیل عیسی(علیه السلام) ځوی د مریم اے اللّٰه ربه ځمونږ نازل کړے په مونږ باندے دسترخوان د اسمان نه چه وی مونږ له اختر مخکنو ځمونږ لره او روستنو ځمونږ لره اونخه به وی ستانه او رزق راکړے مونږله اوته غوره د رزق ورکؤونکونه ئے(۱۱۴)اوفرمائل اللّٰه تعالیٰ یقیناً ځه نازلوونکے د هغے یم په تاسوباندے، پس چاچه

کښ ذکرد پنځم احتیاج د عیسیٰ(علیه السلام) دے اللّٰه تعالیٰ ته په باره د معجزے د مائده کښ ﴿يٰعِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ﴾ مهائمی وئیلی دی چه دے خطاب کښ اشاره ده چه مونږتا عبد د اللّٰه تعالیٰ ګنړومونږتا ته اله یا ابن اللّٰه نه وایود دے وجے ستانه دُعا غواړو اوانزال د مائدے ستا په اختیارکښ نیشته ﴿هَلْ يَسْتَطِيْعُ﴾ (سوال) حواریین خو کامل مؤمنان دی اوهغوی اللّٰه تعالیٰ اود هغه صفتونه پیژنی نود هغوی د اللّٰه تعالیٰ په قدرت کښ شك نیشته نوهل یستطع ئے ولے اوئیلو؟ (جواب) دا استفهام تقریری دے هل په معنیٰ د قد سره دے او دا تاویل په دے سبب سره دے چه خازن وئیلی دی چه نه دی جائزهیچا لره چه وهم اوکړی په حواریین کښ چه هغوی شك کوؤپه قدرت د اللّٰه تعالیٰ کښ ﴿مَآئِدَةً مِّنَ السَّمَآءِ﴾ په مائده کښ دوه قولونه دی اول داچه نفس تیارطعام ته وئیلے شی دویم داچه دسترخوان چه په هغے باندے طعام پروت وی۔

[۱۱۳] دا ذکرد عذراوسبب د طلب د مائده دے ﴿نُرِيْدُ اَنْ نَّاْكُلَ مِنْهَا﴾ ځلورمقاصد ئے ذکرکړی دی اول خوراك کول قرطبی د ماوردی نه نقل کړی دی چه دلته مراد اکل دپاره د حصول د برکت دے ﴿وَتَطْمَئِنَّ قُلُوْبُنَا﴾ مراد د اطمینان نه زیادت د یقین دے په قدرت د اللّٰه تعالیٰ باندے یا اطمینان په دے خبره چه اللّٰه تعالیٰ مونږد دعوت د دین دپاره منتخب کړی یو ﴿وَنَعْلَمَ اَنْ قَدْ صَدَقْتَنَا﴾ مراد دعلم نه زیادت دعلم دے په صدق د رسالت د هغه باندے ﴿وَنَكُوْنَ عَلَيْهَا مِنَ الشّٰهِدِيْنَ﴾ مراد د دے نه شهادت د توحید د اللّٰه تعالیٰ دپاره اود رسالت د رسول دپاره یا شهادت په معنیٰ د خبر ورکوؤنکی دے غائبینوته په صدق د توحید او رسالت اود دے معجزے۔

[۱۱۴] هرکله چه عیسیٰ(علیه السلام) پوهه شوچه د دوی مقصد صحیح دے نودُعائیے اوغوختله اشاره ده احتیاج د هغه ته په دے واقعه کښ او دارنګ د دے نه معلومه شوه چه انبیاء علیهم السلام په معجزاتوکښ اللّٰه تعالیٰ ته محتاج دی ﴿اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا﴾ صفت د الوهیت اوربوبیت ئے دواړه په وسیله کښ ذکرکړی دی د دیر تضرع دپاره ﴿مَآئِدَةً﴾ کوفیان وائي په دے کښ معنیٰ د فاعلیت ده یعنی لاسونه د خوراك والوځان ته مائل کوی اوبصریان وائي دا په معنیٰ د مفعول ده یعنی لاسونه د خوراك والوهغے ته مائل کیږی۔ ﴿عِيْدًا﴾ د عود نه ماخوذ دے ځکه چه هغه په هرکال کښ واپس (دوه کرته) راځی په خوشحالولو سره نودلته معنیٰ عرفی مراد ده یا معنیٰ لغوی مراد ده (خوشحالی باربار) اودا معنیٰ غوره ده او وئیلے شویدی چه مائده په ورځ دَاتوارنازل شویوه د دے وجے نه دوی په ورځ د اتواربانده عید مناؤکړولیکن دا قول خلاف دے د حدیث صحیح نه (مضمون ئے دا دے چه یهودو د ځان دپاره دَځالی ورځ اونصاراؤ د اتوار

يَكْفُرْ بَعْدُ مِنْكُمْ فَاِنِّيْٓ اُعَذِّبُهٗ عَذَابًا لَّآ اُعَذِّبُهٗٓ اَحَدًا مِّنَ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۱۵﴾ وَاِذْ قَالَ اللّٰهُ يٰعِيْسَى
ابْنَ مَرْيَمَ ءَاَنْتَ قُلْتَ لِلنَّاسِ اتَّخِذُوْنِيْ وَاُمِّيَ اِلٰهَيْنِ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ قَالَ سُبْحٰنَكَ مَا يَكُوْنُ لِيْٓ
اَنْ اَقُوْلَ مَا لَيْسَ لِيْ ۗ بِحَقٍّ ؕ اِنْ كُنْتُ قُلْتُهٗ فَقَدْ عَلِمْتَهٗ ؕ تَعْلَمُ مَا فِيْ نَفْسِيْ وَلَآ اَعْلَمُ مَا فِيْ نَفْسِكَ ؕ
اِنَّكَ اَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوْبِ ﴿۱۱۶﴾ مَا قُلْتُ لَهُمْ اِلَّا مَآ اَمَرْتَنِيْ بِهٖٓ اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ رَبِّيْ وَرَبَّكُمْ ۚ وَكُنْتُ

کفراو کړو روستودَ دے ستاسونه څه به عذاب ورکړم هغه لره داسے عذاب چه نه به وی ورکړے ماداسے عذاب هیڅاته دَخلقونه (۱۱۵) اوکوم وخت چه اوبه وائی اللّٰه تعالیٰ اے عیسیٰ څوئے دَ مریم آیا تا وئیلی دی خلقوته؟ اونیسئے ما اومور ځما دَ بندګئے حقدارسیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه، اوبه وائی پاکی ده تاله (دَ شرك نه) نه دی جائزمالره چه اُوایم هغه چه نه دے مالره لائق که ماوئیلی وی پس یقیناً ته عالم ئے په هغے پوهیږے په هغه څه چه په زړه ځما کښ دی اونه پوهیږم څه په هغه څه چه په نفس ستا کښ دی یقیناً ته ښه پوهیږے په پټوڅیزونو(۱۱۶) نه دی وئیلی مادویته مګرهغه چه تاحکم کړے دے ماته (دَ بیان دَ هغے) چه بندګی خاص کړئے اللّٰه لره چه رب ځما اورب ستاسودے او ؤوم څه

ورځ مقررکړه اواللّٰه تعالیٰ مونږته هدایت اوکړودپاره دَ ورځ دَ جمعے) نومعلومه شوه چه ورځ دَ اتوارعید جورول خلاف ده دَ هدایت دَ اللّٰه تعالیٰ نه ﴿لِاَوَّلِنَا وَاٰخِرِنَا﴾ په هغه زمانه کښ حاضرین اوروستو راتلونکی دَ روستودپاره دَ عید کولو وجه دا ده چه هغوی به دَ دے مائدے نه خوری اودا به باقی وی یعنی یا اللّٰه دا مائده جاری اوساتے ﴿وَارْزُقْنَا﴾ یعنی دا مائده زمونږ دپاره رزق اوګرځوے۔

[۱۱۵] په دے ایت کښ ذکردَ اجابت دَ دُعا دَ عیسیٰ علیه السلام دے سرهٔ دَ ذکردَ ادب نه په طریقه دَ تخویف سره ﴿فَاِنِّيْٓ اُعَذِّبُهٗ عَذَابًا﴾ په دے کښ اشاره ده یوقوم چه معجزه طلب کړی اوهغوی ته نصیحت هم اوکړے شی اودَ هغے باوجود دَ هغے معجزے انکاریا بے ادبی کوی نوهغه دَ سخت عذاب مستحق دی۔

فائده: په نزول دَ مائده کښ اختلاف دے حسن بصری اومجاهد نه ابن جریراوابن کثیرپه صحیح سند سره نقل کړے دے چه هرکله دوی دا سخت تخویف واوریدلونودوی مطالبه پریخودله اومائده نازله نه شوه اودَ دے قول تقویت په دے وجه سره کیدیشی چه دَ نزول مائده خبر په نصاریٰ کښ مشهورنه دے اونه دَ هغوی په کتاب کښ شته دے۔ دویم قول دَ جمهوراهل علمودے چه مائده نازل شویده اوابن جریردا قول غوره کړے دے په دے دلیل چه اللّٰه تعالیٰ وعده کړے وه چه ﴿اِنِّيْ مُنَزِّلُهَا﴾ اواللّٰه تعالیٰ خپله وعده پوره کوی اوپه دے باندے پیر اثاردَ سلفونه د لالت کوی چه یودَ هغے نه ترمذی مرفوع سند سره نقل کړے دے (په کتاب التفسیرکښ) چه نازل شویوه مائده دَ اسمان نه ډوډئے اوغوښه او دویته امرکړے شوے ؤ چه خیانت به نه کوئے او دَ صبا دپاره به ذخیره نه کوئے نو دوی خیانت اوکړواوذخیره ئیے اوکړله اودَصبا دپاره ئیے کیخودل شروع کړل نودَ دوی شکلونه دَ شادوکانواوخنزیرانوپشان اوګرځیدل او اول قول والا چه وئیلی دی چه دَنصاریٰ په کتاب کښ نیشته دَ هغے جواب دا دے چه په دے واقعه کښ دَ هغوی دَ مشرانو مسخ ذکرشویده دَ دے وجے نه دوی دا واقعه پټه ساتله۔ اوخپلوکتابونوکښ ئیے لیکلے نه ده۔

[۱۱۶] دا اعاده دَ هغه اذقال ده چه په (۱۱۰)کښ ذکر ؤ او دیته اعاده بعد عهد وئیلے شی یعنی دَ

عَلَيْهِمْ شَهِيْدًا مَّا دُمْتُ فِيْهِمْ ۚ فَلَمَّا تَوَفَّيْتَنِيْ كُنْتَ اَنْتَ الرَّقِيْبَ عَلَيْهِمْ ؕ وَاَنْتَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ ﴿۱۱۷﴾

پدوی باندے خبرځوپورے چه ژوم په دوی کښ پس هرکله چه تاځه واغستم نوته خاص ته ساتونکے د دوی ئے (په هرحال کښ) اوته په هرځیزباندے حاضر اوناظرئے (۱۱۷)

ماقبل او د دے مضمون وخت یو دے۔ د دے مقالے په وخت کښ اختلاف دے سدی اوقطرب وئیلی دی چه دا روستودَ رفع د عیسیٰ علیہ السلام نه اسمان ته په دُنیاکښ ده اودا قول ابن جریرغوره کړے دے دویم قول اکثرمفسرینو وئیلی دی چه دا مخاطبه به په ورځ د قیامت کښ وی ﴿اِنْ تُعَذِّبْهُمْ﴾ دا شفاعت نه دے بلکه تفویض (سپارل) دی حکم د اللّٰه تعالیٰ ته لکه روستوذکرکیږی۔ اودلیل دا دے چه دا د (یوم یجمع اللّٰه الرسل) سره تعلق لری ﴿وَاُمِّیَ﴾ دا لفظ په ځائے د مریم کښ د دے دپاره ذکرکړوچه دلیل شی په نفی د الوهیت د عیسیٰ علیہ السلام اودَ مریم باندے۔ ځکه نسبت د توالد منافی دے د الوهیت سره ﴿مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ﴾ دون په معنیٰ د غیردے دلالت پدے نکوی چه د اللّٰه تعالیٰ الوهیت ئے پریخودلے دے بلکه د شرك دپاره استعمالیږی ﴿قَالَ سُبْحَانَكَ﴾ حدیث د ترمذی کښ راغلی دی چه داحجت اللّٰه تعالیٰ عیسیٰ علیہ السلام ته تلقین کړے دے ترمذی وئیلی دی چه دا حدیث حسن صحیح دے سبحانك دا تحقیقی جواب دے اواظهار د عقیدے د عیسیٰ علیہ السلام دے چه پاکی د هر عیب اودَشریك او ولد نه اللّٰه تعالیٰ دپاره ثابته ده نودَ هغه شریك امکان نه لری ﴿مَا يَكُوْنُ لِيْ﴾ دا تفریع ده په سبحانك باندے اودویم جواب دے مایکون په معنیٰ د مَایَتَصَوَّرُاومَا یَنْبَغِی اومَایُمکِنُ سره دے ﴿مَالَيْسَ لِيْ بِحَقٍّ﴾ دا په معنیٰ د استحقاق دے یعنی دعوت کول د خپل الوهیت ځما په هیڅ طریقے سره حق نه دے ﴿اِنْ كُنْتُ قُلْتُهٗ فَقَدْ عَلِمْتَهٗ﴾ هرکله چه احتمال وؤچه کیدیشی چه عیسیٰ علیہ السلام داسے چرے وئیلی وی لیکن اوس انکارکوی نو رد د دے احتمال کوی په طریقه د دلیل برهان ﴿تَعْلَمُ مَافِيْ نَفْسِيْ﴾ دا دلیل د ما قبل ملازمے دے چه اللّٰه تعالیٰ په هرځیزعالم دے نوپه نفس د عیسیٰ علیہ السلام هم عالم دے اوپه دے جمله کښ بل احتمال رد دے حاصل د رد دا دے چه ځما په نفس کښ دا خیال نه دے تیر شوے نو په ژبه بښکاره کول خو دِیره بعیده خبره ده ﴿وَلَآ اَعْلَمُ مَافِيْ نَفْسِكَ﴾ دابیان د واقع اواظهارد خپل قصورعلم دے اونفس ذات ته وئیلے شی اودَ اللّٰه تعالیٰ په صفت کښ نفس لفظ ثابت دے د دے تاویل ته حاجت نیشته۔

[۱۱۷] دا هم جواب د هغه سوال دے (ءَ اَنتَ قُلتَ) په طریقه د ادب سره ﴿اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ﴾ ان تفسیر دے د مامورېه اوپه دے کښ تفسیرد الوهیت اودَ ربوبیت دواړه ذکردی۔ نومعلومه شوه چه دا اخبارد عیسیٰ علیہ السلام بالکل رشتیا دے د دروغوهیڅ احتمال پکښ نیشته دے ﴿وَكُنْتُ عَلَيْهِمْ شَهِيْدًا مَا دُمْتُ فِيْهِمْ﴾ په دے کښ ذکرد برائت دے د عیسیٰ علیہ السلام د هغه اعمالونه چه نصاراؤد هغه نه روستو پیدا کړیدی او(مادمت فیهم) عام دے د مادمت حیا نه اشاره ده چه بعضے حصه د ژوندئیے اسمان کښ تیره کړے ده د هغه وخت د عملونودَ نصاراؤ علم هم ورسره نیشته اگرچه ژوندے وؤخولرے وؤاوهیڅ اسباب ئیے نه وؤ۔ ﴿فَلَمَّا تَوَفَّيْتَنِيْ كُنْتَ اَنْتَ الرَّقِيْبَ عَلَيْهِمْ﴾ دلته توفی په عامه معنیٰ سره ده یعنی اخستل د څیز پوره برابر خبره ده که روح اوبدن ئیے په جمع اخستلے وؤپه وخت د رفع د عیسیٰ علیہ السلام اسمان ته اوکه په روح اخستلوسره وؤچه مرګ دے روستو دَنزول د هغه نه زمکے ته په اخره زمانه کښ په متواتراحادیثوسره ثابت

إِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ ۚ وَإِنْ تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿١١٨﴾ قَالَ اللَّهُ هَٰذَا يَوْمُ يَنْفَعُ
الصَّادِقِينَ صِدْقُهُمْ ۚ لَهُمْ جَنَّاتٌ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ۖ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا

که ته عذاب ورکوے دویته پس یقیناً دوی ستا بندګان دی او که ته بخنه کوے دویته پس یقیناً ته زور اور ئے حکمتونو والائے (۱۱۸) اوبه وائی اللّٰه تعالیٰ دا ورځ ده چه فائده به ورکوی رشتیاویونکوته رشتیاوئیل دَ هغوی (په دُنیاکښ) دوی لره جنتونه دی چه بهیږی لاندے دَ هغے نه ولے همیشه به وی دوی په هغے کښ همیشه، رضادے اللّٰه تعالیٰ دَ دوینه او رضادی دوی

دے۔ الرقیب، ساتنه کوؤنکے عالم دَ هغوی دَ احوالواو اعمالو ﴿وَأَنْتَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ﴾ کل شئ کښ اقوال اعمال دَ عیسیٰ علیه السلام اودَ هغه قوم اوهرمطیع اوهرعاصی اوهر څیزداخل دے۔

فائده: امام بخاری په تفسیردَ سورة مائده کښ اودا رنګ مسلم په باب فناء الدنیا وبیان الحشرکښ حدیث مرفوع په روایت دَ ابن عباس رضی الله عنه سره راوړے دے چه په هغے کښ داتګړه ده چه دَ قیامت په میدان کښ به څه کسان ځما دَ امت نه راوستلے شی اوګس طرف (جهنم) ته به روان کړے شی څه به اُوایم یا ربه دوی خوځما سره ملګرتیاکړے وه نو ورته به اُوئیلے شی(انك لاتدری ما احدثوا بعدك) (یقینا تاته پته نیشته چه دوی ستانه روستوشه پیداکړی دی) نوځه به اوایم لکه چه بل صالح بنده وئیلی دی کنت علیهم شهیدا ما دمت فیهم الایة۔ نودا حدیث صحیح صریح دلیل دے چه زمونږنبی صلی الله علیه وسلم هم دَ اعمالواواحوالونه روستودَ وفات نه علم نه لری اواحادیث دَ عرض دَ اعمالوصحیح ثابت نه دی (سوال) دَ دے حدیث نه مرزائي قادیانی ملعون استدلال کړے دے چه عیسیٰ علیه السلام وفات شویدے اوپه دے ایت کښ فلما توفیتنی په معنیٰ دَ مرګ سره دے وجه دَ استدلال دا ده چه زمونږ نبی هم دا ایت په خپل مثال کښ پیش کوی نوزمونږنبی خو وفات شویدے دَ وفات نه روستوعلم دَ اُمت نه لری نومعلومه شوه چه توفیتنی کښ معنیٰ دَمرګ مراد ده؟(جواب(۱))عامومفسرینوتوفیتنی په معنیٰ دَرفع سره کړے ده(جواب(۲)) که دلته توفیتنی په معنیٰ دَمرګ سره شی نوهم اشکال نه رائی ځکه چه داکلام دَعیسیٰ علیه السلام په قیامت کښ دے اوقیامت نه مخکښ خوپه هغه باندے مرګ به رائی روستودَ نزول نه نوپدے سره نفی دَرفع دَهغه نه لازمیږی۔

[۱۱۸] دا هم قول دَ عیسیٰ علیه السلام دے نوبنا په قول دَسدی اوقطرب باندے دا قول په دُنیا کښ وؤنومعنیٰ داده ﴿إِنْ تُعَذِّبْهُمْ﴾ که ته دوی په کفرباندے باقی پاتے کړے اوبیا اخرت کښ عذاب ورکړے نوپه تا اعتراض نیشته ځکه چه ﴿فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ﴾ او ﴿إِنْ تَغْفِرْ لَهُمْ﴾ یعنی توفیق دَ توبے ورکړے نوبخنه ورته دَ توبے په وجه سره اوکړے نوته دَ دے نه عاجزنه ئے ځکه چه ﴿فَإِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ﴾ لیکن هرکله چه مخکښ ثابت شوه چه قول دَ سدی ضعیف دے نوبنا په قول دَ جمهورومفسرینودا به په اخرت کښ وی۔ (سوال) هرکله چه دَ دغه نصاراؤ کفراوشرك اودروغ ثابت شول نودَهغوی دپاره څرنګ سفارش کوی؟(جواب) ابن کثیراوخازن وغیره وئیلی دی چه دا سفارش کول نه دی بلکه تفویض(سپارل) دی مشیّت اوارادے دَ اللّٰه تعالیٰ ته اوبرائت دے دَ عیسیٰ علیه السلام دَ نصاراؤ نه اودلیل دا دے چه دَ ان تغفرنه روستوغفورالرحیم نه دے وئیلے ځکه چه مقصد طلب دَ مغفرت نه دے۔

عَنْهُ ؕ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿۱۱۹﴾ لِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا فِيْهِنَّ ؕ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۱۲۰﴾ ع ۱۵

دَ هغه نه داکامیابی لویه ده(۱۱۹) خاص اللّٰه تعالیٰ لره ده بادشاهی دَ آسمانونو اودَ زمکے اودَ هغه څه چه په دوی کښ دی اوهغه په هرڅیز قدرت لرونکے دے(۱۲۰)

[۱۱۹] دا بشارت دے متعلق دے دَ حال دَ عیسیٰ علیه السلام سره ﴿هٰذَا يَوْمُ﴾ مراد دَ دے نه ورځ دَ قیامت ده دَ دے تخصیص ئے دَ دے وجے نه اوکړوچه په دغه ورځ پوره جزا ملاویږی ﴿يَنْفَعُ الصّٰدِقِيْنَ صِدْقُهُمْ﴾ مراد دَ صدق دَ دوی نه رشتیا وئیل اوکول دی په دُنیاکښ ځکه چه دُنیا دَ عمل کولوځائے دے نوالصادقین نه مراد هغه څوك دی چه همیشه ئے رشتیا وئیلی وی نو اول په هغے کښ توحید دے دَ دے وجے نه ابن کثیر وئیلی دی الصادقین، المؤحدین دی اودعوت کوونکی دَحق دی۔ چه اول په هغے کښ انبیاء علیهم السلام داخل دی اودَ نفع نه مراد ثوابونه اُخروی دی یا دَ صدق نه مراد صدق دے په اخرت کښ لکه چه دَ عیسیٰ علیه السلام بیان کول (په اخرت کښ) ذکرشو لیکن دا صدق دَ دُنیا دَ صدق سره موافق دے نومراد دَ نفع نه دا دے چه دَ مؤاخذے اودَ خلقودَ ملامتیانه په بچ شی اوثوابونه به حاصل کړی۔ اوهرچه صدق دَ ابلیس دے په ورځ د قیامت لکه په سورة ابراهیم ۲۲ کښ دی نوهغه صدق دَ دُنیا دَ عمل دَ هغه سره موافق نه وؤځکه ورته فائده نه ورکوی ﴿لَهُمْ جَنّٰتٌ﴾ دا بیان دَ نفع دے دَ دے دَ وجے نه عطف ئے نه دے ذکرکړے ﴿رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ﴾ په سبب دَطاعت اودَ رشتیاوئیلوسره دَ دوی په دُنیا کښ ﴿وَرَضُوْا عَنْهُ﴾ دوی په دُنیاکښ رضا په قضا دَ اللّٰه تعالیٰ کړے وه نوپه اخرت کښ سبب دَ رضاکثرت نعمتونه دی دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه۔

[۱۲۰] دا اختتام دَ سورة دے په دعویٰ دَ توحید سره دپاره دَ رد دَ نصاراؤ نو اشاره ده چه عیسیٰ علیه السلام او موردَ هغه لره ملك اوقدرت دَ هرڅیزنیشته نوهغوی الٰه نشی کیدلے ﴿لَهُمْ جَنّٰتٌ﴾ نودا به څوك ورکوی حاصل دَ جواب دا دے چه داکار او قدرت دَ اللّٰه تعالیٰ دے ﴿وَمَا فِيْهِنَّ﴾ هغه مخلوق چه په آسمانونوکښ دی اوکه په زمکه کښ دی ملائك، انسانان، پیریان، حیوانات، نباتات اوجمادات وغیره۔

سُوْرَةُ الْاَنْعَام (۶) مَكِّيَّةٌ (۵۵) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۱۶۵ رُكُوْعَاتُهَا ۲۰

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَجَعَلَ الظُّلُمٰتِ وَالنُّوْرَ ؕ ثُمَّ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ یَعْدِلُوْنَ ①
هُوَ الَّذِیْ خَلَقَكُمْ مِّنْ طِیْنٍ ثُمَّ قَضٰۤی اَجَلًا ؕ وَاَجَلٌ مُّسَمًّی عِنْدَهٗ ثُمَّ اَنْتُمْ تَمْتَرُوْنَ ② وَهُوَ

ټول صفتونه دَ خدائیتوب خاص اللّٰه تعالیٰ لره دی هغه ذات دے چه پیداکړی دی اسمانونه او زمکه اوجوړے کړی دی تیارے او رنړا بیا هم (لرے خبره ده) چه داکافران دَ رب خپل سره برابرکنړی نورخلق (۱) خاص اللّٰه هغه ذات دے چه پیداکړی ئے تاسودَ ختیے نه بیائے فیصله کړے دَ نیټے دَ مرګ، اونیټه چه مقرر ده (ټول مخلوق دپاره) په علم د اللّٰه کښ ده بیاهم تاسوشك کوئے (۲) اوخاص هغه

سورة الانعام

ربط: دَ سورة انعام دَ محکمښ سورت سره دا دے چه محکمښ سورت کښ ترغیب وؤپه لوظونو پوره کولوچه هغه په باره دَ حلال اوحرام کښ وؤ او رد وؤپه شرك دَ نصاریٰ باندے نودے سورت کښ اصل مقصد چه توحید دے دَ هغے تفصیل کوی په دلیلونوسره۔

دعویٰ دَ دے سورت: توحید ثابت کول دی په دلیلونوعقلی اونقلی سره اُو رد دے په ټولواقساموډَ شرك اوپه مشرکانو باندے سرهٔ دَ طریقودَ تعلیم نه۔

خلاصه: په سورت کښ دوه حصے دی اوله حصه تر (۱۱۷) پورے ده په هغے کښ رد دے په شرك اعتقادی باندے او په دے کښ شپږ بابونه دی اول باب تر(۱۱) پورے دے په دے کښ دعویٰ دَ توحید اوپه هغے باندے درے عقلی دلیلونه دی اوپه هریو کښ درے درے اموردی، بیا زجردے په درے طریقوسره، بیا تخویف دُنیوی دے په درے طریقو سره، بیا جوابونه دَ درے سوالونو او اخرکښ تسلی ده په درے طریقو سره۔

تفسیر

[۱] په دے کښ دعویٰ د توحید ده اول دلیل عقلی دے چه هغه درے قسمه دے علوی سفلی وسطی۔ ﴿الظُّلُمٰتِ وَالنُّوْرَ﴾ مراد دَ دے نه عام دے که محسوسی وی لکه شپه او ورځ یا معنوی وی لکه شرك اوتوحید جهل اوعلم ﴿ثُمَّ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ﴾ دا زجردے منکرینوته اوثم دَ تعقیب ذکری دپاره دے یا دَ استبعاد دپاره دے ﴿یَعْدِلُوْنَ﴾ دَ عدل نه دے برابر ئے ته وئیلے شی اوبربهم متعلق دے په یعدلون پورے یعنی دَ خپل رب سره نورمخلوق برابروی یعنی شرك کوی یا دَعدل نه دے او بربهم متعلق دے په کفروا پورے یعنی عدول (مخ اړوی) دَ حق نه ﴿ظُلُمٰتِ﴾ جمع ئے ذکرکړے ده ځکه چه دَ هغے اقسام اواسباب اوافراد ډیردی او نور یودے۔

[۲] دا دویم دلیل عقلی دے او ﴿اَجَلًا﴾ نه مراد مرګ دے او دویم ﴿اَجَلٌ﴾ نه مراد نیټه دَ قیامت ده، اوپه دے کښ درے اموره دی ﴿مِنْ طِیْنٍ﴾ دَ ټولوانسانانواصل ماده او اوله ماده دا ده۔ یا مراد دادے چه ستاسوپلارئیے دَ ختے نه پیداکړے دے په لفظ دَ طین کښ اشاره ده چه په انسان کښ استعداد دَ علم

اللّٰهُ فِي السَّمٰوٰتِ وَ فِي الْاَرْضِ ؕ يَعْلَمُ سِرَّكُمْ وَ جَهْرَكُمْ وَيَعْلَمُ مَا تَكْسِبُوْنَ ۝٣ وَمَا تَاْتِيْهِمْ مِّنْ
اٰيَةٍ مِّنْ اٰيٰتِ رَبِّهِمْ اِلَّا كَانُوْا عَنْهَا مُعْرِضِيْنَ ۝٤ فَقَدْ كَذَّبُوْا بِالْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ ؕ فَسَوْفَ يَاْتِيْهِمْ
اَنْۢبٰٓؤُا مَا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ۝٥ اَلَمْ يَرَوْا كَمْ اَهْلَكْنَا مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنْ قَرْنٍ مَّكَّنّٰهُمْ فِي الْاَرْضِ
مَا لَمْ نُمَكِّنْ لَّكُمْ وَاَرْسَلْنَا السَّمَآءَ عَلَيْهِمْ مِّدْرَارًا ۪ وَّ جَعَلْنَا الْاَنْهٰرَ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهِمْ فَاَهْلَكْنٰهُمْ
بِذُنُوْبِهِمْ وَاَنْشَاْنَا مِنْۢ بَعْدِهِمْ قَرْنًا اٰخَرِيْنَ ۝٦ وَلَوْ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ كِتٰبًا فِيْ قِرْطَاسٍ فَلَمَسُوْهُ

اللّٰه تصرف کؤونکے دے په اسمانونو اوپه زمکه کښ، پوهیږی په پټ ستاسو اوښکاره ستاسو اوپوهیږی په هغه څه چه کوئ تاسو (۳) اونه راځی دوی ته څه نښه د نښودَ رب د دوی نه مګر وی دوی دَهغے نه مخ اړ ژونکی(٤) پس یقیناً دروغژن کړو دوی حق لره هر کله چه راغے دویته، پس زردے چه رابشی دویته خبرونه (عذاب) د هغه څه چه دوی په هغے پورے ټوقے کولے (٥) آیا دوی نه ګوری چه څومره هلاك کړی دی مونږ دوینه مخکښ قومونه (پیړئے) ځائے ورکړے ژو مونږ هغویته په زمکه کښ دومره چه نه دے درکړے مونږ تاسوته او را اولیګل مونږ باران د بره نه په هغوی باندے پرله پسے (په قدرد ضرورت) او ګرځولے وے مونږ ولے چه بهیدلے به د لاندے د بنګلو د دوی نه، پس هلاك کړل مونږ دوی په سبب د ګناهونو د دوی اوپیداکړو مونږ روستو د دوینه قوم نور(٦) او که نازل کړے وے مونږ په تاندے غوندے کتاب(انغختے) په کاغذونو کښ پس لګولے به وے دوی په هغے

او کمال شته په محنت سره لکه چه د ختے نه بنه ځیزونه جوړیږی په محنت سره ﴿قَضٰٓى اَجَلًا﴾ دا د ولادت نه ترمرګه پورے ده ﴿وَاَجَلٌ مُّسَمًّى﴾ دا د مرګ نه تربعث پورے ده دا یوقول دے دویم دا چه اول اجل نفس نیته د مرګ او دویم اجل ورځ د قیامت ده۔ او دا غوره قول دے ﴿تَمْتَرُوْنَ﴾ د مریة نه ماخوذ دے په معنیٰ د شك سره یا د مِراء نه دے په معنیٰ د جګړه کولوسره اوثم د استبعاد دپاره دے۔

[۳] دا دریم دلیل دے اول درے دلیلونه د ذکار سازئے د اللّٰه تعالیٰ دی۔ اودا درے امورد علم ئے ذکرکړل پټ قول، ښکاره قول اوعملونه بقیه۔

[٤،٥] دا زورنه ده اوپه دے کښ درے ځیزونه ذکرکړیدی۔ اعراض، تکذیب استهزاء ﴿مِنْ اٰيَةٍ﴾ په معنیٰ د دلیل یا معجزه یا ایت قرآنیه دے من، اول دپاره د استغراق اودویم دپاره د تبعیض دے ﴿فَقَدْ﴾ فا دپاره د تعقیب ده یعنی روستو د اعراض نه تکذیب اواستهزاء ئے اوکړله ﴿اَنْۢبَآءُ﴾په معنیٰ د عواقب ده (عاقبتونه، سزاګانے) ﴿يَسْتَهْزِءُوْنَ﴾ یعنی دوی د تکذیب سره استهزاء هم ملګرے کړے ده۔

[٦] دایره دُنیوی ده په دے کښ ئے درے انعامات ذکرکړے دی، تمکین اوبارانونه اونهرونه۔ اودرے احوال ئے ذکرکړل چه هغه دوه کرته ذکرد اهلاك دے اودریم پیداکول د نوروقومونو روستو د دوی نه ﴿قَرْنٍ﴾ هغه ډله د خلقو چه په یوزمانه کښ دی اودارنګ یوموده د زمانے چه تقریبا سل کاله دی ﴿مَكَّنّٰهُمْ﴾ تمکین نه مرادمکانات بنګلے اوبادشاهی اومالداری ده ﴿وَاَرْسَلْنَا﴾اشاره ده لکه چه دوی سرمایه داروژنودارنګ جاګیردارهم وژنواوچے زمکے په بارانونوسره اباد ے شوے ﴿مِدْرَارًا﴾ پرله پسے خودَ حاجت

بِاَيْدِيْهِمْ لَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِنْ هٰذَآ اِلَّا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ۝ وَقَالُوْا لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْهِ مَلَكٌ ۭ وَلَوْ اَنْزَلْنَا مَلَكًا لَّقُضِيَ الْاَمْرُ ثُمَّ لَا يُنْظَرُوْنَ ۝ وَلَوْ جَعَلْنٰهُ مَلَكًا لَّجَعَلْنٰهُ رَجُلًا وَّلَلَبَسْنَا عَلَيْهِمْ مَّا يَلْبِسُوْنَ ۝ وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ مِّنْ قَبْلِكَ فَحَاقَ بِالَّذِيْنَ سَخِرُوْا مِنْهُمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ۝ ع ۱۰

لاسونه خپل خامخا اوبه وائی کافران نه دے دا مګر جادو ښکاره دے(۷) او دوی وائی: ولے نشی نازلے دے په دۀ باندے ملك؟ او که نازل کړے وے مونږ ملك خامخا فیصله به شوے وے دَکار دَ دوی بیابه ورله مهلت نشی ورکیدے(۸) او که جوړ کړے وے مونږ رسول ملك نوخامخا جوړ کړے به وے مونږ دے سړے (په شکل کښ) اوخامخا شك به راوستے وے مونږ پدوی باندے هغه چه اوس کوم شك کوی(۹) اویقیناً ټوقے کړے شوی دی په پیر رسولانوپورے ستانه مخکے پس راګیر کړو هغه کسانو لره چه مسخرے ئے کولے دَ دوینه (عذاب) دَ هغه څه چه دوی ورپورے ټوقے کولے(۱۰)

موافق ﴿قَبْلِكَ﴾ دَ دوی دَ بنګلودَ لاندے اودَ دوی په انتظام اوپه اختیارکښ دی دَ دے وجے نه تحتهم ئے ذکرکړو ﴿فَاَهْلَكْنَاهُمْ﴾ اول اهلکنا په معنیٰ دَ ارادے دَ اهلاك دے اودا فعل دَ هغے دے یا اول اهلاك په سبب دَ شرك سره دے اودویم اهلاك په سبب دَ نورو ګناهونوسره۔

[۷] دا دَ درے سوالونوجوابونه دی، اول سوال په یوځل کتاب راوړه دَ هغے جواب دے په(۷)کښ ﴿فِيْ قِرْطَاسٍ﴾ لیکلے شوی کاغذ ته قرطاس وئیلے شی ﴿كِتٰبًا﴾ په معنیٰ دَ مکتوب سره دے یا مرادکتاب دے اوتقدیردا دے ملفوفا (انغښتے شوے) سوال: فرء وه باعینهم ئے ولے ذکرنه کړو؟ (جواب) سمعاني وئیلی دی چه لمس ډیرابلغ دے په حصول دَ علم کښ ځکه چه په مرئی سحر راځی اوپه ملموس سحرنه راځی اوبله وجه دا ده چه لمس خوړاندوته هم شامل دے۔

[۸] دا دویم سوال دے چه مَلَك په ده باندے ولے نه راځی چه دَ دۀ سره یره ورکونکے شی لکه په سورة فرقان(۷)کښ دی نودَهغے جواب اوشو ﴿لَقُضِيَ الْاَمْرُ﴾ مراد دَ دے نه نزول دَ عذاب دے لکه چه سورة فرقان(۲۲) اوسورة حجر(۸) کښ دی۔

[۹] دا دَ دریم سوال جواب دے دَ سوال دا چه رسول (بشر) په ځائے ملك ولے نه راځی؟ (جواب) اوشوچه هغه به ضرور په شکل دَ بشرکښ راځی، نوبیا به په تاسواشتباه راځی وجه داده چه دَ اللّٰه تعالیٰ احسان دے چه هرے نوعے دَ مخلوق نه دَ هغوی رسول رالیږی دے دپاره چه دَ هغه نه پوره فائده حاصله کړئے ﴿لَلَبَسْنَا﴾ یعنی اوس په اشتباه کښ دی دَ رسول نه چه دا بشر دے نوبیا به هم داسے شبه کښ وی۔

[۱۰] داتسلی ده نبی ﷺ ته او مراد دَ دے استهزاء نه دغه سوالونه دی چه بیان شول اودَ هغے په مثل نور۔ اودَ استهزاء سره مسخره لازمه ده ځکه ئے سخروا ورپسے ذکرکړوځکه چه په استهزاء کښ معنی دَ سپکوالی پرته ده ﴿فَحَاقَ﴾ په معنیٰ دَ نزل، حَلَّ اواحاط سره راغلے دے۔

قُلْ سِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ ثُمَّ انْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِيْنَ ﴿۱۱﴾ قُلْ لِّمَنْ مَّا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ
قُلْ لِّلّٰهِ ؕ كَتَبَ عَلٰى نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ ؕ لَيَجْمَعَنَّكُمْ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ لَا رَيْبَ فِيْهِ ؕ اَلَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ
فَهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۲﴾ وَلَهٗ مَا سَكَنَ فِي الَّيْلِ وَالنَّهَارِ ؕ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿۱۳﴾ قُلْ اَغَيْرَ اللّٰهِ اَتَّخِذُ وَلِيًّا
فَاطِرِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَهُوَ يُطْعِمُ وَلَا يُطْعَمُ ؕ قُلْ اِنِّيْٓ اُمِرْتُ اَنْ اَكُوْنَ اَوَّلَ مَنْ اَسْلَمَ وَلَا

اُوایه: او کړځئے په زمکه کښ بیا او ګورئے چه څنګه ؤو انجام دَ دروغژن کؤونکو (دَ حق)(۱۱) اُوایه: چاله دے؟ اختیار دَ هغه څه چه په آسمانونو کښ دی اوزمکه کښ دی؟ اووایه اللّٰه تعالیٰ لره دے لازم کړے دے په خپل ځان باندے رحم کول خامخا به جمع کړی تاسو په ورځ دَ قیامت کښ شك نیشته په هغے کښ هغه کسان چه تاوان کښ اچولی دی ځانونه خپل پس دوی ایمان نه راوړی (۱۲) اوخاص دَ اللّٰه تعالیٰ اختیار کښ دی هغه څه چه آرام کوی په شپه کښ اوخوزیږی دَ ورځے، اوهغه هرڅه آوری اوپه هرڅه پوهه دے(۱۳) اووایه: آیا سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه اونیسم څه مددګار، پیدا کؤونکے دے دَ آسمانونو او دَ زمکے اوهغه خوراك ورکوی او خوراك نشی ورکیدے هغه ته۔ اُوایه یقیناً حکم کړے شوے دے ماته چه یم به څه اول دَ هغه چا نه چه توحید منی اومه

[۱۱] دا تعلق لری دَ مخکښ ایت سره ﴿سِيْرُوْا﴾ سیرَ قدمونومراد دے اوسیرَ مطالعے پکښ داخلیږی ﴿ثُمَّ انْظُرُوْا﴾ نظرنه مراد عام دے (۱) کتل په سترګو(۲) فکر او سوچ کول۔

[۱۲] دَ دے ځائے نه دویم باب دے تر(۳۷) پورے په دے کښ څلورعقلی دلیلونه دی اوځلورطریقے دَ تعلیم دی په لفظ دَ قل سره اوځلور زجرونه دی اوځلورتسلئی دی اوځلورتخویف اُخروی اویوتزهید فی الدنیا اودَ یوسوال جواب دے۔ دا ایت دلیل عقلی اعترافی سکوتی دے چه اختیارَ بره اوښکته دَ یواللّٰه تعالیٰ دے اوهغه په ځان باندے رحم لازم کړے دے دپاره دَ ایمان والوداسے دَ دے سورت په ۵۵ کښ دی او رحم په کافرانو باندے دا دے چه عذاب ئے دَ هغوی نه تر ورځ دَ قیامت پورے روسته کړے دے لیکن کوم خلق چه ځان ئے په نقصان کښ اچولے دے اودَ توحید نه منکردی پس هغوی پس دَ دلیل نه هم ایمان نه راوړی۔ (سوال) عدم ایمان سبب دے دپاره دَ خسران او دَ دے ځائے نه برعکس معلومیږی (جواب) دلته خسران نه مراد دادے چه کارَ عقل اودَ علم ئے پریښودلے دے دلیلونودَ قرآن ته غورنږدی اوپه تقلید کښ اخته شویدی نودا سبب دے دپاره دَعدم ایمان۔ نوپدے ایت کښ اول دلیل عقلی اعترافی دے بیا ترغیب دے ایمان ته بیا تخویف دے بیا زجردے۔

[۱۳] دا بل دلیل دے ﴿سَكَنَ﴾ ارام کوی دَ شپے اوخوریږی ﴿وَالنَّهَارِ﴾ په ورځ کښ نشر(خوریدل) لفظ پټ دے په دلیل دَ سورة فرقان(۴۷) سره اوتخصیص دَ سکون ئے دَ دے وجے نه اوکړو چه رحمت اونعمت په سکون کښ زیات دے دَ حرکت اودَ نشرنه۔ مخکښ دلیل دَ مکانیاتوپورے متعلق وؤاودا دلیل دَ زمانیاتوسره تعلق لری۔ اوکه سکن په معنیٰ دَ اوسیدلو سره وی نوبیا نشرته ضرورت نیشته۔

تَكُوْنَنَّ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿١٤﴾ قُلْ اِنِّيْٓ اَخَافُ اِنْ عَصَيْتُ رَبِّيْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ﴿١٥﴾ مَنْ يُّصْرَفْ
عَنْهُ يَوْمَىِٕذٍ فَقَدْ رَحِمَهٗ ؕ وَذٰلِكَ الْفَوْزُ الْمُبِيْنُ ﴿١٦﴾ وَاِنْ يَّمْسَسْكَ اللّٰهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهٗٓ اِلَّا هُوَ ؕ
وَاِنْ يَّمْسَسْكَ بِخَيْرٍ فَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿١٧﴾ وَهُوَ الْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهٖ ؕ وَهُوَ الْحَكِيْمُ الْخَبِيْرُ ﴿١٨﴾

کښې ته دَ مشرکانونه(١٤) اُوایه: یقیناً څه ویریږم که نافرمانی اوکړم دَ حکم دَ رب خپل دَ عذاب دَ ورځې لوئے نه(١٥) هغه څوك چه لرے کړے شو دَ هغه نه عذاب په دے ورځ کښې پس یقیناً رحم اوکړو اللّٰه تعالیٰ په هغه باندے، اوداکامیابی ښکاره ده(١٦) اوکه اورسوی اللّٰه تعالیٰ تاته څه تکلیف پس نیشته هیڅ لرے کڅونکے دَ هغے سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه اوکه او رسوی تاته څه خیر پس هغه په هرشے باندے قدرت لری(١٧) اواللّٰه تعالیٰ زور آور دے پورته دے دَ بند ګانوخپلونه او هغه حکمتونو والادے خبر داردے(١٨)

[١٤] دا طریقے دَ تعلیم دی اوجوابونه دَ سوالونو او دا اول قسم دے مقصد پکښې پښیدل دی په عقیده دَ توحید باندے۔ اول سوال زمونږمعبودانوته مددګار او وایه؟ جواب اوشوپه اول قل سره۔ دویم سوال دا توحید منل څه ضروری خبره نه ده؟ جواب اوشوپه دویم قل سره چه داخو ماموربه مسئله ده۔ تردے پورے چه دَ دے مسئلے دَ وجے نه برائت کول لازم دی دَمشرکانونه (ولا تکونن من المشرکین) ﴿وَلِيًّا﴾ رب، معبود، اومددګار ﴿فَاطِرِ﴾ په دے کښې اشاره ده چه دا دواړه ئے دَجدا جدا مادونه راویستل په اول را ویستلوسره ﴿وَهُوَ يُطْعِمُ﴾ روزی ورکول دَ هغه په اختیارکښې دی ﴿وَلَا يُطْعَمُ﴾ په دے سره هغه وهم ردکوی چه والدین هم اولادته طعام ورکوی بعض پیران لنګرے ورکوی؟ جواب دا دے چه اللّٰه تعالیٰ طعام ته حاجت نه لری اونورمخلوقات خوطعام ته محتاج دی سورة مائده (٧٥) سورة ذاریات (٥٧،٥٨)۔ ﴿اَوَّلَ مَنْ اَسْلَمَ﴾ څکه چه نبی په اُمت کښې اول مسلمان وی لکه دَ سورة په (١٦٣) کښې راځی۔

[١٥] دے کښې دَ دریم سوال جواب دے سوال دا دے چه په نه منلوځه نقصان راځی؟ جواب په دریم قل سره دے چه دَ لوئے عذاب یره ده ﴿عَصَيْتُ رَبِّيْ﴾ دلته مراد عصیان دے په شرك کولوسره اوخوف دَ عذاب عظیم د لالت کوی په ګناه کبیره کیدلوباندے ﴿يَوْمٍ عَظِيْمٍ﴾ نوم دے دَ نومونودَ ورځ دَ قیامت نه۔

[١٦] په دے کښې عظمت دَ عذاب ته اشاره ده اوپه دے کښې ئے اوفرمائیل چه دَ هغه عذاب نه بچ کیدل رحم دَ اللّٰه دے لکه سورة العمران (١٨٥) اوسورة مؤمن (٩) کښې دی۔

[١٧] دابل دلیل عقلی دی چه ضرر(مرض، فقر وغیره) لرے کوونکے دَ اللّٰه تعالیٰ نه سیوا بل څوك نیشته اوخیر ورکوونکے (صحت، مال نورحاجتونه پوره کوونکے) دَ اللّٰه تعالیٰ نه سیوا بل څوك نیشته اودا ښکاره رد دے په هغه باندے چه اولیاء که مړه وی یا ژوندوته په امید دَ نفع اوضررسره دَ رامدد شه چغے وهی اودا یقیناً شرك اوکفردے۔ په دے ایت کښې رد دَ شرك فی التصرف دے لکه په سورة یونس (١٠٧) کښې اوسورة فاطر(٢) کښې دی ﴿يَمْسَسْكَ﴾مس اوضرنکره دلالت کوی چه اګرچه که ضرر قلیل وی یا کثیر وی اودَ مس اسناد ئے اللّٰه تعالیٰ ته کړے دے څکه عام مشرکان مصیبت دَ طرف دَ اللّٰه تعالیٰ نه ګڼری۔ ﴿وَاِنْ يَّمْسَسْكَ بِخَيْرٍ﴾ په عبارت کښې تقدیردے یعنی (وان یمسسك بخیر فیقدر علی اتمامه اوان

قُلْ اَیُّ شَیْءٍ اَكْبَرُ شَهَادَةً ؕ قُلِ اللّٰهُ ۙ۬ شَهِیْدٌۢ بَیْنِیْ وَبَیْنَكُمْ ۫ وَاُوْحِیَ اِلَیَّ هٰذَا الْقُرْاٰنُ لِاُنْذِرَكُمْ
بِهٖ وَمَنْۢ بَلَغَ ؕ اَىِٕنَّكُمْ لَتَشْهَدُوْنَ اَنَّ مَعَ اللّٰهِ اٰلِهَةً اُخْرٰی ؕ قُلْ لَّاۤ اَشْهَدُ ۚ قُلْ اِنَّمَا هُوَ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ
وَّاِنَّنِیْ بَرِیْٓءٌ مِّمَّا تُشْرِكُوْنَ ﴿۱۹﴾ اَلَّذِیْنَ اٰتَیْنٰهُمُ الْكِتٰبَ یَعْرِفُوْنَهٗ كَمَا یَعْرِفُوْنَ اَبْنَآءَهُمْ ؕ اَلَّذِیْنَ

اُوایه: څه شے ډیرلوئے دے په ګواهئے کښ؟ اُوایه اللّٰه تعالیٰ ګواه دے په مینځ ځما او ستاسو کښ او وحی کړے شوے ده ماته دَ دے قرآن دے دپاره چه اویروم تاسو په دے سره اوهغه چاڅه چه اورسی ورته قرآن، آیاتاسودامنئے چه دَ اللّٰه سره نور دَ بندګئ لائق شته دے اُوایه چه ځه نه منم اُوایه یقیناً هغه حقدار دَ بندګئ یودے او یقیناً ځه ځان پاك ساتم دَ هغے نه چه تاسو شرك کوئے(۱۹) هغه کسان چه ورکړے دے مونږ دویته کتاب پیژنی(صدق) دَ دے نبی(ﷺ) (په توحید کښ) لکه چه پیژنی دوی ځامن خپل هغه کسان

اراد لغیرفهوعلیٰ کل شیء قدیرفیقدرعلیٰ منعه) په سورة یونس کښ وان یردك بخیر وئیلے دے ځکه چه فعل دَ مس نه مخکښ اراده دَ اللّٰه تعالیٰ وی نوپه دے سورت کښ مقصد دلیل دے په رد دَ شرك فی التصرف نولفظ دَ مس دَ تصرف سره مناسب دے اوسورة یونس کښ مقصد اصلاح اوپوځوالے دَ عقیدے دے اودَ عقیدے سره دَا رادے مناسبت دے۔

[۱۸] دابل دلیل عقلی دے ﴿اَلْقَاهِرُ﴾ هغه غالب چه چرے نه مغلوب کیږی اویواځے نظام چلوونکے دا معنیٰ سمعانی ذکرکړے ده اوداسے دَ دے سورت په (٦١) کښ شته ﴿فَوْقَ﴾ لفظ دَ متشابهاتونه دے، په دے کښ عقیده دَ سلف صالحینودا ده چه په ظاهر معنیٰ حقیقی باندے به ایمان لرو اوعلم دَ حقیقت به اللّٰه تعالیٰ ته سپارو اوتشبیه دَ مخلوق سره به نه کووانه به دَ دے صفت نه انکارکوؤ۔ نومراد به داوی چه داسے فوقیت او اوچتوالے چه دَ اللّٰه تعالیٰ دَ شان سره خائیږی۔ اودَ هغه فوقیت دَ عرش دَ پاسه دے په سبب دَ صریح نصوصوسره اوفوقیت دَ اللّٰه تعالیٰ پدے سورت (٦١) او نحل (٥٠) کښ ذکردے۔

[۱۹] داهم طریقه دَ تعلیم ده جواب دَ سوال دے چه تاسومونږته په توحید باندے اوپه خپل صداقت باندے هیڅ ګواه پیش نه کړونوجواب اوشوچه لوے ګواه پدے خبره اللّٰه تعالیٰ دے اوقرآن ئیے دَ دے دپاره رالیږلے دے ﴿قُلِ اللّٰهُ﴾ دَ دے نه استدلال شوے دے چه دَ شئ اطلاق په اللّٰه تعالیٰ باندے کیږی لیکن حقه خبره دا ده چه په نقل کښ (قرآن اوحدیث کښ) دا اطلاق په اللّٰه تعالیٰ باندے صراحة ندے ثابت صرف منطقی قانون دَ دے مسئلے دپاره کافی نشی کیدلے﴿شَهِیْدٌۢ بَیْنِیْ﴾شهادت دَ اللّٰه تعالیٰ په اثبات دَتوحید اوپه برائت سره ﴿وَاُوْحِیَ اِلَیَّ هٰذَا الْقُرْاٰنُ﴾ اشاره ده چه شهادت دَ اللّٰه تعالیٰ په قرآن کښ ذکردے﴿لِاُنْذِرَكُمْ﴾ فائده دَ وحی دَ قرآن دَ منکرینودپاره انذار دے دَ دے وجے نه ئیے بشارت ذکرنه کړو﴿وَمَنْۢ بَلَغَ﴾ دَ دے نه معلومه شوه چه محمد رسول اللّٰه ﷺ ترقیامته پورے رسول دے ځکه چه چاته قرآن اورسی نودَ هغه نذیردغه نبی ﷺ دے اودا دلیل دے چه په احکامودَ قرآن سره په وخت دَ نزول کښ او روستوموجودیدونکی ټول مخاطب دی اودا دلیل دے په ختم دَ نبوت سره په محمد ﷺ باندے ﴿اَىِٕنَّكُمْ لَتَشْهَدُوْنَ﴾ استفهام دَ زجر دپاره دے۔ ﴿قُلْ اِنَّمَا هُوَ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ﴾ اوله کلمه کښ توحید دے اوپه دویمه کښ برائت دَ شرك نه۔ اوپه دے ایت کښ نتیجه ده په توحید سره دَ مخکښ دلیلونو۔

خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ فَهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۲۰﴾ وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا اَوْ كَذَّبَ بِاٰيٰتِهٖ ؕ اِنَّهٗ
لَا يُفْلِحُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿۲۱﴾ وَيَوْمَ نَحْشُرُهُمْ جَمِيْعًا ثُمَّ نَقُوْلُ لِلَّذِيْنَ اَشْرَكُوْٓا اَيْنَ شُرَكَآؤُكُمُ الَّذِيْنَ كُنْتُمْ
تَزْعُمُوْنَ ﴿۲۲﴾ ثُمَّ لَمْ تَكُنْ فِتْنَتُهُمْ اِلَّآ اَنْ قَالُوْا وَاللّٰهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِيْنَ ﴿۲۳﴾ اُنْظُرْ كَيْفَ كَذَبُوْا عَلٰٓى

چه تاوانی کړی دی دوی ځانونه خپل پس دوی ایمان نه لری(۲۰) اوڅوك ډیر لوئے ظالم دے؟ دَ هغه چانه چه جوړوی په اللّٰه تعالیٰ باندے دروغ یادروغژن ګنړی آیاتونه دَ هغه، یقیناً نشی بچ کیدے ظالمان(۲۱) اوپه هغه ورځ چه جمع به کړو دوی ټولو لره بیا به اُوایو هغه کسانوته چه شرك ئے کړے دے څه شول مددګاران ستاسو هغه چه تاسو ګمان کؤو(چه دوی سفارشیان دی)(۲۲) بیابه نه وی بهانه دَ دوی مګر داچه اوبه وائی قسم دے په اللّٰه تعالیٰ چه رب ځمونږ دے نه ؤو مونږ شرك کؤونکی(۲۳) اوګوره څنګه دروغ اُوئیل دوی په

[۲۰] روستودَ شهادت دَ اللّٰه تعالیٰ نه شهادت دَعلماؤذکرکوی نودا دلیل نقلی دے دَ محکمښ کتاب منونکونه ﴿اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ﴾ دا لفظ دَ صالحینوکتابیانو دپاره استعمالیږی ﴿يَعْرِفُوْنَهٗ﴾ ضمیر راجع دے محمدﷺ ته سرهٔ دَ صفاتودَ هغه نه یا راجع دے قرآن ته (سمعانی) یاراجع دے هغه ځیزته چه نبیﷺ راوړے دے (ابن کثیر) ﴿الَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا﴾ په(۱۲) کښ منکرین دَ قیامت مراد وؤ اودلته منکرین دَ رسول اودَ قرآن مراد دی۔

[۲۱] دا زورنه ده شرك کوونکو ته اوذکردَ سبب دَ خسران دے ﴿افْتَرٰى﴾ په اللّٰه تعالیٰ دروغ جوړوی یعنی نسبت دَ شرك دَ جوازاللّٰه تعالیٰ ته کوی یا دعویٰ دَ نبوت کوی په دروغه سره ﴿اَوْ كَذَّبَ﴾ یعنی اياتونه دَ توحید نه منی دروغژن ئیے ګنړی یا اياتونه دَ قرآن نه منی اودا دواړه ډلے ظالمان دی اوداسے په دے سورت(۹۳، ۱٤٤) او نورو سورتونوکښ هم دی۔

[۲۲] دایره اُخروی ده هغه مشرکانو ته چه نیکان بندګان ئیے دَ اللّٰه تعالیٰ سره شریك کړی دی په ورځ دَ قیامت به هغوی دَ دوی نه غائب وی اودوی به دَ شرك نه انکار اوکړی ﴿لِلَّذِيْنَ اَشْرَكُوْٓا﴾ شربینی وئیلی دی دا عام دے هغه چاته چه بندګی ئیے دَ بتانوکړے ده یا دَ عزیراومسیح یا دَ تیرے او رنړا وغیره ﴿شُرَكَآءُكُمْ﴾ اضافت دَ دے وجے نه دے چه تاسودوی مسمیٰ کړی وؤپه شرکاء سره ﴿تَزْعُمُوْنَ﴾ زعم اکثر قول اوعقیدے باطلے ته وئیلے شی۔

[۲۳] ﴿وَاللّٰهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِيْنَ﴾ اوله معنیٰ دا ده چه قسم په اللّٰه تعالیٰ چه مونږشرك نه دے کړے (دوی به انکار اوکړی بیا به اللّٰه تعالیٰ ځُله دَ دوی بنده کړی اواندامونه به ئیے ګواهی ورکړی نوبیا به اقرار کوی) دویمه معنیٰ دا ده چه قسم دے مونږچه څه کړی دی هغه شرك نه وؤ هغه خووسیله وه اودَ بزرګانوسره محبت وؤدَ اولے معنی تاکید په سورة مؤمن(۷٤) کښ دے اودَ دویمے معنیٰ په سورة نحل (۲۸) کښ ﴿فِتْنَتُهُمْ﴾ په معنیٰ دَ قول اودَ عذراودلیل اوسمعانی وئیلی دی چه یو انسان مفتون شی په یو محبوب څیز باندے بیا ورته پدیکښ مصیبت او رسی نودے دَ هغه محبوب نه برائت اوکړی نو اُوئیلے شی چه نه وه دَ دهٔ فتنه مګردا وه۔

اَنْفُسَهُمْ وَضَلَّ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴿۲۴﴾ وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّسْتَمِعُ اِلَيْكَ ۚ وَجَعَلْنَا عَلٰى قُلُوْبِهِمْ اَكِنَّةً اَنْ
يَّفْقَهُوْهُ وَفِيْٓ اٰذَانِهِمْ وَقْرًا ؕ وَاِنْ يَّرَوْا كُلَّ اٰيَةٍ لَّا يُؤْمِنُوْا بِهَا ؕ حَتّٰٓى اِذَا جَآءُوْكَ يُجَادِلُوْنَكَ يَقُوْلُ
الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِنْ هٰذَآ اِلَّآ اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿۲۵﴾ وَهُمْ يَنْهَوْنَ عَنْهُ وَيَنْـَٔوْنَ عَنْهُ ۚ وَاِنْ يُّهْلِكُوْنَ اِلَّآ
اَنْفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۲۶﴾ وَلَوْ تَرٰٓى اِذْ وُقِفُوْا عَلَى النَّارِ فَقَالُوْا يٰلَيْتَنَا نُرَدُّ وَلَا نُكَذِّبَ بِاٰيٰتِ رَبِّنَا

ځانونو خپلو باندے او روك به شي دَ دوينه هغه چه دوی دروغ جوړول(۲٤) اوبعضے دَ دوی نه هغه څوك دی چه غوږ کیدی تاته(خونه پوهیږی) ځکه چه پیداکړی دی مونږپه زړونو دَ دوی باندے پردے (دَ پوهے دَ قرآن نه) اوپه غوږونو دَ دوی کښ دروندوالے دے اوکه اُوینی دوی هر قسم نښه نو ایمان نه راوړی په هغے ترهغے کله چه راشی تاته (نزدے) جګړه کوی تاسره وائی کافران نه دے دامګر قصے دَ زړو خلقو(۲۵) او دوی منع کول کوی دَ هغه نه اولرے کیږی دهغه نه اونه هلاکوی دوی مګر ځانونه خپل او دوی نه پوهیږی (۲٦) اوکه اُوینے ته هغه وخت چه اوبه درولے شی دوی دَ اور په خوا کښ پس وائی به هائے افسوس دے واپس کړے شوے مونږه (دُنیاته) او دروغژن کړے نوے مونږ آیاتو نه دَ رب خپل

[۲٤] دروغ قصے دَ شرك چه دوی دَ ځان نه جوړے کړے وے هغه به دَ دوی نه هیرے شی یا هغه معبودان چه دوی دَ هغوی عبادت کوؤ سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه هغه به دوی نه غائب شی۔

[۲۵] دا اٰیت زورنه ده چه قرآن ته غوږ کګدی په اراده دَ تکذیب اواستهزاء سره نوپه مقصد دَ هغے (چه توحید دے) نه پوهیږی ځکه چه دَ ضد دَوجے نه زړونه اوغوږونه اوسترګے ئے دَ حق نه بند دی۔ اوقرآن بیان کوونکی سره جګړه کوی او قرآن ته زړے دروغ قصے وائي ﴿وَجَعَلْنَا﴾ اشاره ده چه دا بندول دَ حواسو دَ دوی اللّٰه تعالیٰ کړی دی نوځوك ئے بدلولے نه شی اودیته جعل تکوینی (تقدیری) وئیلے شی۔ ﴿وَاِنْ يَّرَوْا كُلَّ اٰيَةٍ﴾ دا اشاره ده پروندوالی ته دَ حق نه چه دَ سترګو افت دے داسے په سورة کهف۵۷ کښ هم دی ﴿حَتّٰٓى اِذَا﴾ یعنی اول خودَ لرے نه غوږ کیدی بیا دَ عناد دَ وجے نزدے کیږی دپاره دَجنګ کولو ﴿يُجَادِلُوْنَكَ﴾ مجادله دَ ځُلے بحث کول اومناظرے کولوته وئیلے شی ﴿اَسَاطِيْرُ﴾ جمع دَ اسطورة ده لیکلے شوی ته وئیلے شی اوس هم دَ قرآن په باره کښ دَ منکرینوخیال دے چه دا دَ قصوکتاب دے دارنګ بعض وائي چه دَ دے دَ نزول دپاره جداجدا قصے دی نودا په هغه قصوپورے خاص دے په بل ځیزباندے چسپان نشی کیدلے۔

[۲٦] داهم زورنه ده عطف دے په ما قبل باندے دَ دے یومعنیٰ دا ده چه دَ قرآن نه نورخلق منع کوی اوپخپله لرے لرے ګرځی بله معنیٰ داده چه دَ دے پیغمبرد تکلیف ورکولونه خلق منع کوی لیکن پخپله ئے نه منی لکه ابوطالب چه وؤ اودَ هغه اشعار شربینی اوسمعانی وغیره نقل کړی دی۔

وَنَكُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۲۷﴾ بَلْ بَدَا لَهُمْ مَّا كَانُوْا يُخْفُوْنَ مِنْ قَبْلُ ؕ وَلَوْ رُدُّوْا لَعَادُوْا لِمَا نُهُوْا عَنْهُ وَ
اِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ﴿۲۸﴾ وَقَالُوْٓا اِنْ هِيَ اِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنْيَا وَمَا نَحْنُ بِمَبْعُوْثِيْنَ ﴿۲۹﴾ وَلَوْ تَرٰٓى اِذْ وُقِفُوْا عَلٰى رَبِّهِمْ ؕ
قَالَ اَلَيْسَ هٰذَا بِالْحَقِّ ؕ قَالُوْا بَلٰى وَرَبِّنَا ؕ قَالَ فَذُوْقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُوْنَ ﴿۳۰﴾ ع قَدْ خَسِرَ الَّذِيْنَ ۱۱
كَذَّبُوْا بِلِقَآءِ اللّٰهِ ؕ حَتّٰٓى اِذَا جَآءَتْهُمُ السَّاعَةُ بَغْتَةً قَالُوْا يٰحَسْرَتَنَا عَلٰى مَا فَرَّطْنَا فِيْهَا ۙ وَهُمْ يَحْمِلُوْنَ
اَوْزَارَهُمْ عَلٰى ظُهُوْرِهِمْ ؕ اَلَا سَآءَ مَا يَزِرُوْنَ ﴿۳۱﴾ وَمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَآ اِلَّا لَعِبٌ وَّلَهْوٌ ؕ وَلَلدَّارُ الْاٰخِرَةُ خَيْرٌ

اووے مونږه مؤمنانونه (۲۷) بلکه ښکاره شو دوی ته هغه څه چه پټوو دوی مخکښ دَ دے، او که واپس شول دوی دُنیا ته نو خامخا اوبه ګرځی هغه کارونو ته چه منع شوی دی دوی دَ هغے نه او یقیناً دوی خامخا دروغژن دی(۲۸) اووائی دوی ندے دا مګر ژوند ځمونږ نزدے دے اونه یو مونږ دوباره پورته کړے شوی(۲۹) او که ته اُوینے هغه وخت چه پیش به شی رب خپل ته اوبه وائی آیاندے دا(ژوند) حق، دوی به اُوائی او قسم دے په رب ځمونږ، اوبه وائی پس اوځکئے عذاب په سبب دَ دے چه تاسو کفر کؤو(۳۰) یقیناً تاوان کښ پریوتل هغه خلق چه دروغژن ګنړی پیشی دَ اللّٰه تعالیٰ ترهغے پورے کله چه راشی دویته قیامت ناسا په دوی به وائی هائے افسوس دے ځمونږ په کوتاهئ په باره دَ قیامت کښ او دوی به پورته کوی پیټی دَ ګناهونو خپلو په شاګانو خپلو باندے۔ خبردار بد دے هغه چه دوئی بوج پورته کوی(۳۱) اوندے ژوند دُنیوی مګر لوبے او مشغله ده، او خامخا کور روستنے(جنت) غوره دے

[۲۷] دایره اُخروی ده اوذکرد افسوس دے په قرآن اوبه توحید پسے ﴿وَلَوْ تَرٰٓى﴾ جزا پټه ده (ضرور اوبه وینے ناکاره حال دَ دوی) ﴿عَلَى النَّارِ﴾ په لفظ دَعلی کښ اشاره ده چه اودرول دَ دوی ډیرقریب دی اورته او ﴿يٰلَيْتَنَا نُرَدُّ﴾ په دے کښ تمنا دَ واپس کیدلوده دُنیا ته اوداپه ډیرو اياتونو کښ ذکرده سورة الم سجده (۱۲) فاطر (۳۷) سورة مؤمنون(۹۹) ﴿وَلَا نُكَذِّبَ﴾ په زَور دَبا سره په تقدیردَ ان سره جواب دَ تمنا دے او داسے لفظ دَ نکون هم دے یعنی اذا نرد فلا نکذب (کله چه واپس شو بیا به تکذیب نه کوؤ)۔

[۲۸] دا تعلق لری دَ مخکښ ایت سره چه افسوس دَ دوی دَ زړه دَ یقین په وجه نه دے ﴿بَلْ بَدَا لَهُمْ مَّا كَانُوْا يُخْفُوْنَ مِنْ قَبْلُ﴾ معنیٰ داده ښکاره شودوی ته هغه شرك چه پټوودوی مخکښ دَ دے نه په دے قول(واللّٰهِ ربنا ماکنا مشرکین) یعنی ښکاره شو په ګواهئ دَ اندامونوسره۔ بله معنیٰ داده ښکاره شوتابعدارو ته هغه (حق) چه پټوؤمشرانوباغیانودَ دے نه مخکښ دا قول دَ زجاج دے۔

[۲۹] دا زورنه په انکار دَ بعثت سره ده اودا علت دے دپاره دَکاذبون۔ هِيَ ضمیر راجع دے حیاة معروفه ته۔

[۳۰] روستودوه اياتونه دَ دے سره متعلق دی دپاره دَ اثبات دَ بعثت دی سرهٔ دَ تخویف نه۔

[۳۱] ﴿السَّاعَةُ﴾ قیامت ته ځکه وائی چه حساب به په هغے کښ زرکیږی۔ داهم اثبات دَ قیامت دے سره دَ زجراوتخویف اُخروی نه ﴿بَغْتَةً﴾ هغه دے چه وخت مقرر ئے معلوم نه دے اګرچه علامات ئے معلوم وی ﴿يٰحَسْرَتَنَا﴾ حسرت افسوس کول په فوت شوی څیز پسے اوسخت دردمند کیدل اویا حسرتناکښ ډیره مبالغه ده په نسبت دَ انا متحسر ﴿فَرَّطْنَا فِيْهَا﴾ ضمیردُنیا ته راجع دے نوفی ظرفیه دے یا

لِّلَّذِيْنَ يَتَّقُوْنَ ط اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿٣٢﴾ قَدْ نَعْلَمُ اِنَّهٗ لَيَحْزُنُكَ الَّذِيْ يَقُوْلُوْنَ فَاِنَّهُمْ لَا يُكَذِّبُوْنَكَ وَلٰكِنَّ
الظّٰلِمِيْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ يَجْحَدُوْنَ ﴿٣٣﴾ وَلَقَدْ كُذِّبَتْ رُسُلٌ مِّنْ قَبْلِكَ فَصَبَرُوْا عَلٰى مَا كُذِّبُوْا وَاُوْذُوْا حَتّٰٓى
اَتٰىهُمْ نَصْرُنَا ۚ وَلَا مُبَدِّلَ لِكَلِمٰتِ اللّٰهِ ۚ وَلَقَدْ جَآءَكَ مِنْ نَّبَاِى الْمُرْسَلِيْنَ ﴿٣٤﴾ وَاِنْ كَانَ كَبُرَ عَلَيْكَ

هغه چا لره چه بچ کیږی (دَ شرك نه) آیاپس عقل نه لرئ(۳۲) یقیناً پوهیږو مونږ چه خامخا خفه کوی تالره هغه خبرے چه دوی وائی پس یقیناً دوی دروغژن نه ګڼری تا اولیکن ظالمان دَ آیاتونو دَ اللّٰه تعالیٰ نه انکار کوی (۳۳) او یقیناً دروغژن وئیلی شوی دی پیرو رسولانوته مخکے ستانه پس صبر کړے وو دوی په هغه چه دویته دروغژن وئیل کیدل او دویته بدوئیلے کیدل تردے چه راغے دویته مدد ځمونږ او نیشته هیڅ بدلوونکے دَ کلمو دَ اللّٰه تعالیٰ(وعدے دَامداد) او یقیناً راغلی دی تاته بعضے خبرونه دَ پیغمبرانو(۳٤) او که ګران وی په تاباندے

راجع دے ساعة ته اوفی شانیه دے ﴿وَهُمْ يَحْمِلُوْنَ اَوْزَارَهُمْ﴾ هر کله چه دَ تفریط نسبت دوی ګمراهانو مشرانوته کوؤ او وئیل ئے چه ګناه زمونږدَ هغوی په غاړه دے نواللّٰه تعالیٰ دا وهم دَ دوی ردکړو اودا کنایه ده دَ لزوم دَګناهونونه په دوی پورے۔

[۳۲] دا تزهید فی الدنیا دے دَ بے رغبتئے دَ دُنیا نه اوترغیب دے اخرت ته په دے جمله کښ دوه توجیه دی، اول داچه لکه څنګه چه دَ لوبوموده لړه وی دارنګ ژوند دَ دُنیا لږدے دویم دا چه سامان دَ ژوند هغه چه اخرت پرے نه طلب کیږی په شان دَلهولعب دے چه هیڅ انجام اوفائده ئے نیشته۔ لعب هغه څیزته وائي چه هیڅ فائده په کښ نه وی۔ لهو، هغے ته وائي چه زړه پرے مشغوله کیږی۔ دویم فرق دا دے چه لعب هغه بے فائدے څیزدے چه مقصد پکښ زرخوشحالی حاصلول وی، اولهو کښ خوشحالی مقصد نه وی بلکه زړه مشغولول وی ﴿خَيْرٌ﴾ غوره ځکه دے چه باقی اوهمیشه دے۔

[۳۳] دا تسلی ده نبی ته اوله خبره دا ده چه دوی ستا تکذیب نه کوی بلکه دوی دَ اللّٰه تعالیٰ دَ اياتونو (یعنی دَ توحید) انکار کوی﴿قَدْ نَعْلَمُ﴾دا عنوان دَ محبت اوتسلئی دے﴿الَّذِيْ يَقُوْلُوْنَ﴾مراد دَ دے هغه اقوال دَ منکرینودی چه مخکښ دَ هغونه نقل شول په(۸،۲۵،۲۹)اودارنګ سب وشتم نبی ﷺ ته﴿فَاِنَّهُمْ لَا يُكَذِّبُوْنَكَ﴾دَ دے یوتوجیه داد ه چه دوی ستا تکذیب په زړه کښ نه کوی صرف په ژبه باندے دَ ضد دَ وجے نه انکارکوی۔ دویم دوی تاته کاذب نه وائي بلکه صادق اوامین وائي لیکن دَ قرآن نه انکارکوی لکه چه دَ ابوجهل نه نقل دے چه هغه وئیل چه واللّٰه مونږستا تکذیب نه کوؤبلکه تکذیب دَ هغه څیزکوؤچه تا راوړے دے﴿بِاٰيٰتِ اللّٰهِ﴾ دَ دے نه مراد اياتونه دَ توحید دی لکه چه دَ سورة یونس(۱۵)نه معلومیږی۔

[۳٤] دا دویمه تسلی ده یعنی دویمه خبره داده که دوی ستا تکذیب کوی نومه خفه کیږه اللّٰه تعالیٰ به درسره امداد اوکړی لکه چه تیرشوی رسولانوسره مددکړے شوے دے ﴿عَلٰى مَا كُذِّبُوْا﴾ علیٰ په معنیٰ خپله سره دے یا په معنیٰ دَمع دے ما مصدریه دے ﴿اُوْذُوْا﴾ ایزاء عامه ده دَ تکذیب نه اوایزاء قولی، عملی ټولوته شامل ده ﴿لِكَلِمٰتِ اللّٰهِ﴾ لکه په سورة یونس (۱۳۰) اوصافات (۱۷۲)کښ ذکردی ﴿وَلَقَدْ جَآءَكَ﴾ یعنی تفصیل دَ نصرت په واقعاتودَ مرسلینو کښ اوګوره۔

اِعْرَاضُهُمْ فَاِنِ اسْتَطَعْتَ اَنْ تَبْتَغِیَ نَفَقًا فِی الْاَرْضِ اَوْ سُلَّمًا فِی السَّمَآءِ فَتَاْتِیَهُمْ بِاٰیَةٍ ؕ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَجَمَعَهُمْ عَلَی الْهُدٰی فَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الْجٰهِلِیْنَ ﴿۳۵﴾ اِنَّمَا یَسْتَجِیْبُ الَّذِیْنَ یَسْمَعُوْنَ ؕ وَالْمَوْتٰی یَبْعَثُهُمُ اللّٰهُ ثُمَّ اِلَیْهِ یُرْجَعُوْنَ ﴿۳۶﴾ وَقَالُوْا لَوْلَا نُزِّلَ عَلَیْهِ اٰیَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ ؕ قُلْ اِنَّ اللّٰهَ قَادِرٌ عَلٰۤی اَنْ یُّنَزِّلَ اٰیَةً وَّلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا یَعْلَمُوْنَ ﴿۳۷﴾ وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ فِی الْاَرْضِ وَلَا طٰٓئِرٍ یَّطِیْرُ بِجَنَاحَیْهِ اِلَّاۤ اُمَمٌ اَمْثَالُكُمْ ؕ مَا فَرَّطْنَا فِی

مخ اړ ول دَ دوی نه پس که تهٔ طاقت لرے دَ دے چه طلب کړے یو سرنګ په زمکه کښ یا اندر پایه (پاؤنړۍ) آسمان ته پس راوړے ته دوی ته څه نښه اوکه غوختے اللّٰه تعالیٰ خامخا جمع کړے به وے دوی لره په هدایت باندے پس مه کیږه ته دَ ناپوهونه (۳۵) یقیناً قبلوی (حق لره) هغه خلق چه آوری او (کافران) چه پشان دَ مړو دی پورته به کړی اللّٰه تعالیٰ دوی لره بیابه هغه ته اوګرځولے شی(۳۶) او وائی دوی ولے نشی نازلیدلے په دهٔ باندے نښه دَ طرف دَ رب دَ دهٔ نه؟ اُوایه یقیناً اللّٰه تعالیٰ قدرت لری پدے چه نازل کړی نښه اولیکن زیات خلق نه پوهیږی (۳۷) اونیشته هیڅ زنده سر په زمکه کښ اونه مرغۍ چه الوځی په وزرو خپلو مګر ډلے دی ستاسو په شان دی کمے نه دے پریښے مونږ په دے

[۳۵] دا دریمه تسلی ده او دا ایت دلیل دے چه په معجزه کښ دَ نبی ﷺ اختیار اوقدرت نیشته۔ حاصل دا دے چه نبی ﷺ ډیر حرص کوونکے وؤپه هدایت دَګمراهانو باندے که چرے قادر وے چه دَ سورنګ دَ زمکے یا اسمان ته دَ ختلوپه ذریعه معجزه حاصلید لے شوے نودے نبی به داکار کړے وؤ لیکن دَ هغه په قدرت کښ نیشته ﴿نَفَقًا فِی الْاَرْضِ اَوْ سُلَّمًا﴾ مطلب دا دے چه منکرینوچه معجزات طلب کول نوهغه دَ زمکے اودَ اسمان سره تعلق لری لکه په سورة اسراء (۹۰، ۹۱، ۹۲) کښ ﴿فَتَاْتِیَهُمْ بِاٰیَةٍ﴾ نه روستو فَافعل پټ دے ﴿وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ﴾ داهم په تسلئی دَ رسول کښ داخل ده چه اے نبی هدایت په مشیت دَ اللّٰه تعالیٰ سره دے ستاپه اختیارکښ نه دے نوپه دے خفګان مه کوه ﴿لَجَمَعَهُمْ عَلَی الْهُدٰی﴾ یعنی دوی تولوله به ئے توفیق دَهدایت ورکړے وے﴿مِنَ الْجٰهِلِیْنَ﴾هغه خلق چه ملازمه دَمشیت او دَ هدایت نه منی دارنګ هغه څوك چه تکذیب اودَانکار دَخلقوپه وجے سره بے صبری اوکړی داکارد جاهلانودے ﴿فَلَا تَكُوْنَنَّ﴾ کښ مقصد بچ ساتل دَ نبی دی دَحال دَ جاهلانونه۔

[۳۶] داهم تسلی ده رسول اللّٰه ﷺ ته په دے ایت کښ علت دَ عدم هدایت دَ منکرینودے چه هغه دَ ضد اوعناد دَ وجے نه نه او ریدل دَ حق دی ﴿وَالْمَوْتٰی﴾ مراد دَ دینه هغه کافران عنادیان دی چه نه اوریدلو کښ پشان دَ مړودی۔ دَ دے تشبیه نه معلومه شوه چه مړی نه اوری داسے په تفسیرخازن اونیشاپوری اوسراج المنیر وغیره کښ لیکلی دی ﴿یَسْتَجِیْبُ﴾ مفعول پټ دے یعنی دعوة الایمان ﴿یَسْمَعُوْنَ﴾ سماع دَ انابت اودَ فهم حاصلولومراد ده۔

[۳۷] دا زورنه ده اوسوال اوجواب دے ﴿اٰیَةً﴾ دَ دے نه هغه معجزات مراد دی چه کافرانو طلب کول۔ دا عطف دے په ماقبل باندے یعنی موتیٰ (کافران) نه اوری بلکه طلب دَ معجزے کوی﴿لَا یَعْلَمُوْنَ﴾ عاقبت دَ انکاردَ معجزات مطلوبه چه هلاکت دے۔ دارنګ لایعلمون یعنی نه پیژنی اختیارمند دَ معجزاتو۔

الْكِتٰبِ مِنْ شَيْءٍ ثُمَّ اِلٰى رَبِّهِمْ يُحْشَرُوْنَ ﴿۳۸﴾ وَالَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا صُمٌّ وَّبُكْمٌ فِي الظُّلُمٰتِ ؕ مَنْ يَّشَاِ اللّٰهُ
يُضْلِلْهُ ؕ وَمَنْ يَّشَاْ يَجْعَلْهُ عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۳۹﴾ قُلْ اَرَءَيْتَكُمْ اِنْ اَتٰىكُمْ عَذَابُ اللّٰهِ اَوْ اَتَتْكُمُ السَّاعَةُ
اَغَيْرَ اللّٰهِ تَدْعُوْنَ ۚ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۴۰﴾ بَلْ اِيَّاهُ تَدْعُوْنَ فَيَكْشِفُ مَا تَدْعُوْنَ اِلَيْهِ اِنْ شَآءَ وَ

کتاب کښ دَ هیڅ (ضروری مسئلے دَ دین) بیابه رب خپل ته جمع کړے شئ(۳۸) اوهغه کسان چه دروغژن ګڼړی اٰیاتونه ځمونږ دوی کانړه دی چاراګان دی په تیارو کښ دی هغه څوك چه اوغواړی اللّٰه تعالیٰ بے لارے کړی هغه لره اوهغه څوك چه اوغواړی اللّٰه تعالیٰ پوخ کړی هغه لره په لار نیغه باندے(۳۹) اُوایه: خبر راکړئے ماته که راشی تاسوته عذاب دَ اللّٰه تعالیٰ یاراشی تاسوته قیامت (یامرګ) آیاسیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه بلئے تاسو که تاسو رشتینی یئ (چه دوی لائق دَ بلنے دی) (٤٠) بلکه خاص اللّٰه لره بلئے تاسو پس لرے به کړی هغه (تکلیف) بلنه کړے وی تاسو هغے ته که اوغواړی اللّٰه تعالیٰ او

[۳۸] دَ دے ایت نه تر(۷۳) پورے دریم باب دے په دے کښ لس عقلی دلیلونه دی اولس اداب دی په دے ایت(۳۸) کښ دلیل عقلی دے دا دلیل دَ قدرت دَ اللّٰه تعالیٰ دے تعلق لری دَ ان اللّٰه قادرسره یا اشاره ده چه نورو معجزاتوته حاجت نیشته بلکه حالات دَ دواب اومرغانوپوره دلیل دے په قدرت اوعلم دَ اللّٰه تعالیٰ باندے لفظ دَ فی الارض اوبجناحیه دَ تاکید دپاره او دَ دفع دَ دَوهم دَ مجازدپاره دے چه دابّة کله صرف انسان ته وئیلے شی دارنګ ﴿طٰٓئِرٍ﴾ کله قاصد ته وئیلے شی نومعلومه شوه چه دغه معانی مراد نه دی﴿اُمَمٌ اَمْثَالُكُمْ﴾ مماثلت په ډیروحالاتوکښ دے یعنی خلق، رزق، موت، معرفت دَ اللّٰه تعالیٰ اوتسبیح، توحید، حاجات، علم په نفع اوضرر، ځان بچ کول دَ ځایونودَ هلاکت نه او دُشمن پیژندل ﴿فِي الْكِتٰبِ﴾ مراد دَ دے نه لوح محفوظ (کتاب التقدیر) دے نواشاره شوه تقدیرد هرڅیزته۔ یا مراد دَ دے نه قرآن دے۔ (سوال) په قرآن کښ خوهرڅه نیشته؟ جواب: نیشاپوری وائی نیشته هیڅ علم مګرپه قرآن کښ دَ هغے اصل شته۔ یا مراد دَ دے نه هغه ځیزونه دی چه هغے ته په دین کښ احتیاج دے اوسنت دَ نبی هم راجع دے قرآن ته یا مراد دَ دینه دَ ایمانیاتوذکردے ﴿اِلَّآ اُمَمٌ اَمْثَالُكُمْ﴾ پشان ستاسو دی په مخلوقیت په حاجت دَ رزق کښ اوپه ټولوحاجتونوکښ اللّٰه تعالیٰ ته عاجزی کوونکی ﴿مَافَرَّطْنَا﴾ یعنی قرآن کریم کښ ایمانیات په تفصیل سره بیان شوی دی ﴿ثُمَّ اِلٰى رَبِّهِمْ يُحْشَرُوْنَ﴾ دَ دے یومطلب دادے چه دا انسانان به پورته کړے شی په ورځ دَ قیامت کښ دویم مطلب دا دے چه دا ځاروی اومرغان وغیره به پورته کړے شی په ورځ دَ قیامت، اودَ دوی کورنے قصاص به واغستے شی اوبیا به فنا شی په دے باره کښ ډیراحادیث ابن کثیر ذکرکړی دی۔ اوحشرنه مراد دَ دوی فنا ده۔

[۳۹] دا زورنه ده چه دواب اومرغان خپلومصالحوته هدایت مومی لیکن کافران هدایت نه مومی، اومخکښ ایت کښ عموم دَ علم دَ اللّٰه تعالیٰ ذکرشونوپدے ایت کښ عموم دَ مشیت دَ اللّٰه تعالیٰ ذکرکوی ﴿فِي الظُّلُمٰتِ﴾ عطف ئے نه دے کړے اشاره ده چه صرف صُمٌّ اوبُكْمٌ مانع دَ هدایت نه نه دے بلکه ورسره دَ خول په ډیرو ظلماتوکښ سبب دَګمراهئی دے۔

[٤٠] په دے ایت کښ بل دلیل عقلی دے اوپه دے کښ رد دَ شرك فی الدعاء دے اوذکردَ جهالت دَ

تَنْسَوْنَ مَا تُشْرِكُوْنَ ﴿٤١﴾ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَآ اِلٰٓى اُمَمٍ مِّنْ قَبْلِكَ فَاَخَذْنٰهُمْ بِالْبَاْسَآءِ وَالضَّرَّآءِ لَعَلَّهُمْ
يَتَضَرَّعُوْنَ ﴿٤٢﴾ فَلَوْلَآ اِذْ جَآءَهُمْ بَاْسُنَا تَضَرَّعُوْا وَلٰكِنْ قَسَتْ قُلُوْبُهُمْ وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطٰنُ مَا كَانُوْا
يَعْمَلُوْنَ ﴿٤٣﴾ فَلَمَّا نَسُوْا مَا ذُكِّرُوْا بِهٖ فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ اَبْوَابَ كُلِّ شَيْءٍ ؕ حَتّٰٓى اِذَا فَرِحُوْا بِمَآ اُوْتُوْٓا اَخَذْنٰهُمْ

هیرشی تاسونه هغه چه تاسوئیے اللّٰه سره شریك ګڼرئ(٤١) او یقیناً لیږلی دی مونږ رسولان ډیر اُمتونوته مخکے ستانه پس اونیول مونږ هغوی په سختو(ډمال) او مرضونو سره دَ دے دپاره چه دوی عاجزی اوکړی اللّٰه تعالیٰ ته(٤٢) پس ولے نه وه کله چه راغے دویته عذاب ځمونږ چه عاجزی ئے کړے وے (اللّٰه تعالیٰ ته) لیکن سخت شول زړونه دهغوی او ډولی کړی ڤو دویته شیطان هغه عملونه (مشرکانه) چه دوی به کول (٤٣) پس هرکله چه هیر کړه دوی هغه خبره(توحید) چه بیان شوے وه دویته نوراپرانستلے مونږ په دوی باندے دروازے دَ هرڅه ترهغے پورے چه دوی لوئے اوکړه په هغه څه چه ورکړے شوی ڤو دویته اونیول مونږ دوی

مشرکانودے چه دوی سرهٔ دَ دے نه چه اللّٰه تعالیٰ لره خاص بلی په مصیبتونوکښ اوبیا هم ورسره شرك کوی لکه سورة یونس(٢٢) اواسراء(٦٧) کښ دی﴿اَرَءَيْتَكُمْ﴾ همزه دَ استفهام تعجیبی دے او رَاَيتَ په معنیٰ دَ ابصرت اوعرفت دے اومفعول ئیے پټ دے اوتا ضمیر فاعل دے اوکم حرف خطاب دے اواعراب نه غواړی صرف بیان دَ حال کوی حاصل معنیٰ دا ده أابصرت اوعرفت الحالة العجیبة فا خبرنی عنها (که تاسوخبریئ دَ عجیبه حال نه نومالره خبر راکړئ) ﴿صٰدِقِيْنَ﴾ چه دا اصنام اِلٰهَه دی۔

[٤١] دَ دے نه معلومه شوه چه مشرکان هم بعض حالاتوکښ دَاللّٰه تعالیٰ نه دُعا غواړی او رامددشه وائي﴿اِيَّاهُ تَدْعُوْنَ﴾ خاص کوئے تاسوهغه لره په دُعا سره لکه چه نوروځایونوکښ لفظ دَمخلصین راغلے دے لکه په سورة یونس(٢٢) کښ ﴿فَيَكْشِفُ﴾اشاره ده چه اللّٰه تعالیٰ دَمشرك دُعا دَ هغه دَعجزاوتضرع دَ وجے نه کله کله قبلوی اوداپه هغه باندے امتحان دے۔

[٤٢] دا تخویف دَ دُنیوی عذاب دے اوذکردَ ابتلاء دے په نعمتونو اوعذابونو سره او ربط دَ دے ایت دَ مخکښ سره دا دے چه څوك اللّٰه تعالیٰ صرف په مشکلاتوکښ رابلی اوبیا هم شرك کوی نودے برابردے په ګناه کښ اوعذاب کښ دَ هغه چاسره چه په هیڅ حال کښ اللّٰه تعالیٰ نه یا دوی﴿اَرْسَلْنَا﴾دلته رسلاپټ دے﴿مِنْ قَبْلِكَ﴾دَ دے نه روستوفکذبوا پټ دے ﴿بِالْبَاْسَآءِ وَالضَّرَّآءِ﴾ فرق دا دے چه مالی سختئی، فقر، قحط، لوګه وغیره ته باساء وئیلے شی اومرضونودَ بدن ته ضراء وئیلے شی کله کله دَ یوبل په معنیٰ باندے استعمالیږی (قرطبی) ﴿يَتَضَرَّعُوْنَ﴾ تضرع سوال کوی په تزلل اوعاجزئے سره چه دَ هغے سره توبه دَ شرك او دَکناهونونه هم وی۔

[٤٣] په دے کښ دَ هغوی بدحال ذکر دے چه سختئی په هغوی باندے څه اثر اونکړو اودَ هغے دوه موانع ئیے ذکرکړی دی ﴿فَلَوْلَآ﴾ دَ زورنے دپاره دے په معنیٰ دَ نفی سره محل دَ هغے تضرعوا دے اوپه لفظ دَ لولا کښ اشاره ده چه دوی هیڅ عذرنه وؤسیوا دَ عنادنه (نیشاپوری) ﴿قَسَتْ قُلُوْبُهُمْ﴾ قسوة دَ قلب دا دے چه تذکیردَ قرآن اودَ لیلونوپه هغی باندے هیڅ اثرنه کوی﴿وَزَيَّنَ﴾ یعنی شرك ورته په صورت دَ توحید

بَغْتَةً فَاِذَا هُمْ مُّبْلِسُوْنَ ﴿۴۴﴾ فَقُطِعَ دَابِرُ الْقَوْمِ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ؕ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۴۵﴾ قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ اَخَذَ اللّٰهُ سَمْعَكُمْ وَاَبْصَارَكُمْ وَخَتَمَ عَلٰى قُلُوْبِكُمْ مَّنْ اِلٰهٌ غَيْرُ اللّٰهِ يَاْتِيْكُمْ بِهٖ ؕ اُنْظُرْ كَيْفَ نُصَرِّفُ الْاٰيٰتِ ثُمَّ هُمْ يَصْدِفُوْنَ ﴿۴۶﴾ قُلْ اَرَءَيْتَكُمْ اِنْ اَتٰىكُمْ عَذَابُ اللّٰهِ بَغْتَةً اَوْ جَهْرَةً

ناګاه پس دغه وخت دوی نا امیده ؤو دَ هرخیرنه (٤٤) پس پرے کړے شوے جړے دَ هغه قوم چه ظلم ئے کړے ؤو اوټول صفتونه دَ خدائیتوب خاص اللّٰه تعالیٰ لره دی چه پالونکے دَ خلقو دے (٤٥) ته اُوایه: آیاپوهیږئ تاسو که واخلی اللّٰه تعالیٰ غوږونه ستاسو اوسترګے ستاسو اوبندکړی زړونه ستاسو (عقلونه) څوك دی ذمه وار سیوادَ اللّٰه تعالیٰ نه چه راوړی تاسوته دا(طاقتونه) اوګوره څنګه قِسم قِسم بیانوو دلیلونه بیاهم دوی مخ اړوی(دَ هغے نه)(٤٦) اُوایه: خبر راکړئے تاسو که راشی تاسوته عذاب دَ اللّٰه تعالیٰ دَ شپے یادَ ورځے

اوبدعت ورته په صورت دَ سنت ښکاره کړی۔

[٤٤] دا ایت دلیل دے په دے خبره باندے چه دَ شرك اوبدعت اوفسق سره چه دَ دُنیا مزے ډیرے شی امدنئی ډیرے وی نودا استدراج اومهلت دے داکرامت نه دے ﴿نَسُوْا﴾ مراد دَ دے نه پریښودل قصدا دی په داسے طریقه چه په شان دَ هیرشوے وی ﴿مَاذُكِّرُوْا﴾ توحید اوایمان مراد دے ﴿فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ﴾ لفظ دَ فتح کښ اشاره ده چه مخکښ (بأساء اوضراء) کښ په دوی دروازے دَ خیرښدے شوے وے هغه ئے ورته پرانستلے اوپه دے کښ برکت اواطمینان نه وی اومؤمنانانوته چه دَ وجے دَ ایمان او تقویٰ نه دروازے پرانستلے شی نوپه هغے کښ برکات وی لکه په سورة اعراف(٩٦)کښ دی ﴿اِذَا فَرِحُوْا﴾ دَ دے نه مراد فرح بطر دے یعنی تکبرکول دَحق منلونه لکه چه قارون کړے وؤسورة قصص(٧٦)اودیته ابتلاء بالنعم وئیلے شی﴿مُّبْلِسُوْنَ﴾ دَ ابلاس درے معانے دی افسوس، حزن، اونا امیدی (امام راغب) دلته یومعنیٰ دا ده چه نا اُمیدی کوی دَ هرخیرنه دویمه معنیٰ داده چه خپیمانه اوغمژن وی۔

[٤٥] دا ایت دلیل دے چه په هلاکت دَ ظالمانوباندے دَ اللّٰه تعالیٰ حمد لوستل پکار دے ﴿دَابِرُ﴾ نه مراد اخراونسل دے یعنی دَ ظالمانو نسل اللّٰه تعالیٰ ختموی ﴿وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ﴾ اهلاك دَ داسے کافرانودَ ایمان والا دپاره لوئے نعمت او رحمت دے دَ دے وجے نه الحمدللّٰه وئیل پکاردی۔

[٤٦] دا بل دلیل عقلی دے مخکښ عام تکالیف ئے ذکرکړی وؤ اودلته ئے خاص مصیبتونه ذکرکړل۔ مطلب دا دے چه دَ غوږونو اودَ سترګواودَ لیونوذمه وار دَ جوړولو یواللّٰه تعالیٰ دے بل څوك دا تکلیفونه نشی لرے کولے دا ایت دلیل دے په دے خبره باندے چه اله په معنیٰ دَکارجوړوؤنکی اوحاجت پوره کوؤنکی راځی﴿قُلُوْبِكُمْ﴾ نه مراد دلته عقلونه دی بندولودَ عقل نه مراد لیونے کول دی ﴿اَرَءَيْتُمْ﴾ دا لفظ دَ لږ تعجب او ارئیتکم دَ ډیرتعجب په ځائے کښ استعمالیږی نو ارئیتکم سرهٔ عام عذاب ذکر وؤاودلته خاص مصیبتونه ذکردی ﴿يَاْتِيْكُمْ بِهٖ﴾ دا جمله بیان اوتعریف دَ اِلٰه دے ﴿نُصَرِّفُ﴾ تصریف، په مختلف قسمونو عباراتوسره مضمون ذکرکول نوقرآن کښ ذکردَ توحید او رسالت وغیره په عقلی دلیلونواونقلی او زجراو تخویف وغیره سره دے۔

هَلْ يُهْلَكُ اِلَّا الْقَوْمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿۴۷﴾ وَمَا نُرْسِلُ الْمُرْسَلِيْنَ اِلَّا مُبَشِّرِيْنَ وَمُنْذِرِيْنَ ۚ فَمَنْ اٰمَنَ
وَاَصْلَحَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿۴۸﴾ وَالَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا يَمَسُّهُمُ الْعَذَابُ بِمَا كَانُوْا
يَفْسُقُوْنَ ﴿۴۹﴾ قُلْ لَّآ اَقُوْلُ لَكُمْ عِنْدِيْ خَزَآئِنُ اللّٰهِ وَلَآ اَعْلَمُ الْغَيْبَ وَلَآ اَقُوْلُ لَكُمْ اِنِّيْ مَلَكٌ ۚ اِنْ
اَتَّبِعُ اِلَّا مَا يُوْحٰٓى اِلَيَّ ۭ قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الْاَعْمٰى وَالْبَصِيْرُ ۭ اَفَلَا تَتَفَكَّرُوْنَ ﴿۵۰﴾ ع وَاَنْذِرْ بِهِ الَّذِيْنَ

نه هلاکیږی (په دے عذاب) مګرقوم ظالمان (مشرکان)(٤٧) اونه لیګو مونږ رسولان مګر زیری ورکؤونکی اویره ورکؤونکی پس چاچه ایمان راوړو اوتابعداری اوکړه دَ نبی(ﷺ) پس نه به وی هیڅ ویره په دوی باندے اونه به دوی خفه کیږی(٤٨) اوهغه کسان چه دروغژن ګنړی آیاتونه ځمونږ جوخت به شی په دوی پورے عذاب په سبب دَ دے چه دوی نافرمانی کوله(٤٩) اُوایه: نه وایم ځه تاسوته چه ځما په اختیار کښ دی خزانے دَ اللّٰه تعالیٰ اونه پوهیږم په غیب باندے اونه وایم ځه تاسوته چه ځه ملك یم تابعداری نه کؤوم مګر دَهغه څه چه وحی کیدے شی ماته اُوایه آیا برابر دے ړوند اولیدونکے آیا پس فکر نه کوئ تاسو(٥٠) او ویره ورکړه په دے وحی سره هغه کسانوته

[٤٧] دابل دلیل عقلی دے چه دَ عذاب اختیارمند اللّٰه تعالیٰ دے۔ په٤٠کښ دوه قسمونه دَ عذاب ذکروؤ دُنیوی اواُخروی اودلته نور دوه قسمونه ذکرکوی (ناڅاپه اوسره دَ نڅونه) (یا دَ شپے اودَ ورځے) او دلته تقدیرد عبارت داسے دے فَمَن يُهْلَكُ بِهِ اوجواب دَ هغے ﴿هَلْ يُهْلَكُ آه﴾ یعنی اهلاك په مشرکانوپورے خاص دے اوچاچه مشرکانونه برائت نه وی کړے نوپه هغوی باندے تبعا اهلاك راځی۔

[٤٨] دا جواب دَ سوال دے سوال دا دے چه دوی پیغمبرانو ﷺ ته وئیل چه مونږستا خبره نه منونوپه مونږ باندے عذاب راوله یا معجزات راوړه؟ دَ جواب حاصل دا دے چه عذاب اومعجزات راوستل دَ پیغمبرانوپه اختیارکښ نه دی دَ هغوی کارثواب اوعذاب بیانول دی۔ بیا دا ایت زیرے دے مؤمنانو دپاره۔

[٤٩] دا ایت یره دَ عذاب اُخروی ده اوکذبوا په مقابله دَ اٰمَنَ اواَصلَح کښ دے ﴿يَمَسُّهُمْ﴾ دلته مس په معنیٰ دَ الحاق او اصابت سره دے یعنی اوبه رسیږی اوجوخت به شی عذاب په دوی پورے۔

[٥٠] مخکښ ایت کښ دَ رسولانو صفات ثبوتیه ذکر شول یعنی مبشرین اومنذرین نو اوس صفات سلبیه ذکرکوی۔ په دے کښ اداب اوطریقے دَ تعلیم دی اودَ سوالونوجوابونه دی۔ اول سوال دا دے چه ته نبی ئے نوخپل ملګری مالدارکړه۔ دویم سوال دا دے چه ته پیغمبرئے نومونږته دَ خزانوڅایونه اوښایه اودَ پټو خبرونه خبر راکړه۔ دریم سوال دادے چه ته نبی ئے نو خوراك څښکاك ولے کوے۔ څلورم سوال که تهٔ داسے نشے کولے نوبیا خومونږ اوتاسو برابریو۔ جوابات په ترتیب سره اوشو داسے په سورة هود (٣١) کښ هم دی حاصل دَ جواب دا دے چه ځه نه دعویٰ دَ الوهیت کؤوم اونه دَ ملکیت بلکه هغه دعویٰ کؤوم چه دَ بشریت سره مناسب ده چه وحی او رسالت دے ﴿وَلَآ اَعْلَمُ الْغَيْبَ﴾ عطف دے په محل دَ عندی باندے او لامکرر دے دپاره دَ تاکید وَلَا اَقُولُ لَكُم اَعلَمُ الغَيبَ۔ یا عطف دے په لا اقول باندے۔

يَخَافُوْنَ اَنْ يُّحْشَرُوْٓا اِلٰى رَبِّهِمْ لَيْسَ لَهُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ وَلِيٌّ وَّلَا شَفِيْعٌ لَّعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ ﴿۵۱﴾ وَلَا تَطْرُدِ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَدٰوةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيْدُوْنَ وَجْهَهٗ ؕ مَا عَلَيْكَ مِنْ حِسَابِهِمْ مِّنْ شَيْءٍ وَّمَا مِنْ حِسَابِكَ عَلَيْهِمْ مِّنْ شَيْءٍ فَتَطْرُدَهُمْ فَتَكُوْنَ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۵۲﴾ وَكَذٰلِكَ فَتَنَّا بَعْضَهُمْ

چه یریږی دَ دینه چه غونډه به کړے شی دوی رب خپل ته نیشته دوی لره سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه دوست بچ کوؤنکے اونه سفارشی د دے دپاره چه همیشه بچ شئ (دَشرك نه یادَعذاب نه)(۵۱) اومه شړه هغه کسانو لره چه بلی دوی رب خپل صبا اوبیګاه غواړی دوی مخ دَ اللّٰه تعالیٰ نیشته په تاباندے دَ حساب دَ دوینه هیڅ ذمه واری اونیشته دے ستا دَ حساب نه په دوی باندے هیڅ ذمه واری پس که ته دوی اوشړے پس شے به دَ ظلم کؤونکونه (۵۲) اودغسے همیشه ازما یو مونږ بعضے

[۵۱] داهم بیان دَ ادب دے چه دَ قرآن بیان کولو کښ ضرور فائده شته نودَ دوی دَ سوالونواودَ ضد دَ وجے نه بیان مه پریږده ﴿اَلَّذِيْنَ يَخَافُوْنَ﴾ خوف دَ اعتقاد مراد دے نو مراد دَ دے نه اهل کتاب اوهغه مشرکان دی چه قیامت منی اواشاره ده چه ایمان په اخرت ذریعه ده دپاره دَ فائدے اخستلودَ قرآن نه ﴿لَيْسَ لَهُمْ وَلِيٌّ وَّلَا شَفِيْعٌ﴾ اشاره ده چه سرهٔ دَ خوف دَ حشرنه مشرك اوکافردی دَ دے وجے نه دَ هغوی دپاره شفاعت نیشته ﴿لَعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ﴾ پدیکښ اشاره ده فائدے دَ انذارکولوته په قرآن سره۔ (به) دلیل دے چه انذار خاص دے په وحی بیانولو پورے۔

[۵۲] دا هم ادب دے اوجواب دَ سوال دے، چه مونږ به هله ستا ملګرتیا کوؤچه دا غریبان خلق دَ ځان نه اوشړے، جواب اوشومهٔ شړه دا ظلم دے۔ ربط دَ آیت دا دے چه مخکښ دَ تقویٰ دَ پیداکولودپاره طریقه ذکرکړه نواوس دَمتقیانواکرام ذکر کوی ﴿يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ﴾ دُعا ذکرده اومراد ترینه ټول عبادات دی اودُعا په هغے کښ اهم عبادت دے اشاره ده چه هرکله یو انسان کښ توحید فی الدعاء والاستعانت موجود وی نو ټول ایمان ئے مضبوط وی یا مراد دَ دعاء نه ذکرد اللّٰه تعالیٰ دے ﴿بِالْغَدٰوةِ وَالْعَشِيِّ﴾ مراد دَ دے نه ورځ اوشپه ده ذکردَجزء اومراد ترینه کل دے ﴿يُرِيْدُوْنَ وَجْهَهٗ﴾ سمعانی لیکلی دی چه وجه صفت دَ اللّٰه تعالیٰ دے بغیردَکیف نه (اوبغیردَ تاویل اوتمثیل نه) اومحاوره هم داسے شته خلق یوبل ته وائي چه ما ستا دَ مخ لحاظ اوکړوستا مخ مِ اوکړوستا مخ ته مِ اوکتل ﴿مَا عَلَيْكَ مِنْ حِسَابِهِمْ﴾ دا جواب دَ قول دَ مشرکانودے هغوی وئیل چه دے غریبانوپه تاباندے ایمان حقیقی نه دے راوړے منافقت کوی حاصل جواب دا دے چه ظاهری علامات دَ دوی دَ اخلاص دی اودَ باطن حساب کول په تا باندے نیشته هغه اللّٰه تعالیٰ ته سپارلے شوے دے او دویمه جمله ﴿وَمَا مِنْ حِسَابِكَ﴾ صرف دَ تاکید دپاره راوړلے ده یا مراد دَ حساب نه مواخذه ده اوهرکله چه مواخذه دَ دواړه طرف نه نیشته دَ دے وجے نه دواړه جملے ئے ذکرکړے ﴿فَتَكُوْنَ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ﴾ سوال: دَ دے نه معلومه شوه چه نبی ﷺ ظلم کړیدے؟ جواب: نبیﷺ نه شرل کړی دی او نه ئے دَ هغے اراده کړیده اومعنیٰ خوپه طریقه دَ تعلیق سره ده یعنی که چرے ته دوی اوشړے نودَ ظالمانونه به شے۔

بِبَعْضٍ لِّيَقُوْلُوْٓا اَهٰٓؤُلَآءِ مَنَّ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِّنْۢ بَيْنِنَا ؕ اَلَيْسَ اللّٰهُ بِاَعْلَمَ بِالشّٰكِرِيْنَ ﴿۵۳﴾ وَاِذَا جَآءَكَ
الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِاٰيٰتِنَا فَقُلْ سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ كَتَبَ رَبُّكُمْ عَلٰى نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ ۙ اَنَّهٗ مَنْ عَمِلَ مِنْكُمْ
سُوْٓءًا بِجَهَالَةٍ ثُمَّ تَابَ مِنْۢ بَعْدِهٖ وَ اَصْلَحَ ۙ فَاَنَّهٗ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۵۴﴾ وَكَذٰلِكَ نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ وَلِتَسْتَبِيْنَ
سَبِيْلُ الْمُجْرِمِيْنَ ﴿۵۵﴾ قُلْ اِنِّيْ نُهِيْتُ اَنْ اَعْبُدَ الَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ قُلْ لَّآ اَتَّبِعُ اَهْوَآءَكُمْ ۙ ع ۶

په بعضو سره عاقبت داچه اُوائی(منکرین) آیا دا هغه کسان دی چه احسان کړے دے الله تعالی په دوی باندے دَ مینځ زمونږ نه آیا ندے الله تعالی خه پوهه په شکر کؤونکو باندے (۵۳) اوکله چه راشی تاته هغه کسان چه ایمان لری په آیاتونو زمونږ پس اوایه بچ دِشئ تاسو دَ مصیبتونونه لازم کړے دے رب ستاسو په ځان خپل رحم کول(هغه دادے) چه چا عمل کړے وی ستاسونه بدعمل په ناپوهئ سره بیاتوبه اوباسی روستو دَ دے نه اونیك عمل اوکړی پس یقیناً هغه بخونکے دے رحم کؤونکے دے(۵٤) اودغسے (همیشه) تفصیل کؤو مونږ دَآیاتونو(دَتوحید)(چه بشکاره شی حق) اوښه بشکاره شی لار دَ مجرمانو(۵۵) ته اُوایه یقیناً څه منع کړے شوے یم دَ دینه چه بندگی اوکړم دَهغه کسانو چه بلئے تاسو هغوی سیوا دَ الله تعالی نه اُوایه: تابعداری نه کوم دَ خواهشاتو ستاسو

[۵۳] دا دَ تبلیغ دَ عقباتونه اوله عقبه ده۔ یعنی مشرکین اومؤحدین په یوبل باندے امتحان دے په مؤحدینوباندے اول امتحان دا دے چه مشرکان پرے اعتراض کوی چه دَ حق پرستئ احسان صرف په تاسو باندے اوشوبل څوك نیشته۔ جواب دا دے چه الله تعالی خپل بندگان بنه پیژنی ﴿شَاكِرِيْنَ﴾ نه مراد بیان کوؤنکی دَ مسئلے دی ﴿وَكَذٰلِكَ﴾ کاف دپاره دَ تشبیه دے یعنی هرکله چه مالدارو کافرانوغریبان مسلمانان سپك اوکنړل په مکه کښ نوداسے په هره زمانه کښ کیږی لکه په زمانه دَ نوح عليه السلام کښ اودا لفظ دَکذالك دلالت کوی په همیشوالی دَ دے عادت باندے چه اوس زمانه کښ مؤحدینوته داسے امتحان پیش کیږی ﴿لِيَقُوْلُوْٓا﴾ لام دَ عاقبت دے ﴿اَهٰٓؤُلَآءِ﴾ مراد دَ دوی استفهام انکاری دے چه ایمان راوړل څه احسان نه دے کنه مونږدَ دے احسان ډیرحقداریو ﴿الشّٰكِرِيْنَ﴾ یعنی هغه څوك چه په هغوی کښ اهلیت دَاسلام شته نوالله تعالی هغوی ته توفیق دَ ایمان ورکوی۔

[۵٤] دابیان دَ ادب دے چه کله دا بیان کوؤنکی دَ حق سترې ستومانه راشی نوته هغوی ته دَ خوشحالئ خبرے اوکړه او هر کله چه مخالفینوپه دوی باندے طعن کړے ووُ چه تاسوتراوسه پورے په شرك اوکفروغیره کښ وئے نواوس مونږته مسئلے کوئے ؟ نودَ هغے جواب دے په دے لفظ دَ ﴿كَتَبَ رَبُّكُمْ﴾ کښ ﴿سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ﴾ دَ دے سلام نه مراد سلام تحیه نه دے بلکه پخیره راغلے اودُعاده دَسلامتیا دَ دین اودَ دُنیا ﴿اَنَّهٗ﴾ دا تفسیردَ رحمت دے یعنی روستودَ توبے بخنه کول رحمت دے۔ سوال: سنت دَسلام خودا دے چه راتلونکے به سلام کوی په حاضرباندے اودلته حکم برعکس دے۔ جواب: دلته امردے په رسولو دَسلام دَ الله دوی ته یا په معنیٰ دَ دُعادے (الله تعالی دِ تاسوته سلامتیادرکړی) یا داخصوصیت دَ دغه صحابودے یا په معنیٰ دَمرحبا وئیلو سره دے اوسلام په قرآن کښ په ډیرومعانوسره دے۔

[۵۵] دا دویمه عقبه دَ تبلیغ ده یعنی دوی اعتراض کوی چه بله مسئله تاله نه درځی همیشه دا یوه مسئله

قَدْ ضَلَلْتُ اِذًا وَّمَآ اَنَا مِنَ الْمُهْتَدِيْنَ ﴿۵۶﴾ قُلْ اِنِّيْ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّيْ وَكَذَّبْتُمْ بِهٖ ؕ مَا عِنْدِيْ
مَا تَسْتَعْجِلُوْنَ بِهٖ ؕ اِنِ الْحُكْمُ اِلَّا لِلّٰهِ ؕ يَقُصُّ الْحَقَّ وَهُوَ خَيْرُ الْفٰصِلِيْنَ ﴿۵۷﴾ قُلْ لَّوْ اَنَّ عِنْدِيْ
مَا تَسْتَعْجِلُوْنَ بِهٖ لَقُضِيَ الْاَمْرُ بَيْنِيْ وَبَيْنَكُمْ ؕ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِالظّٰلِمِيْنَ ﴿۵۸﴾ وَعِنْدَهٗ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ
لَا يَعْلَمُهَآ اِلَّا هُوَ ؕ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ ؕ وَمَا تَسْقُطُ مِنْ وَّرَقَةٍ اِلَّا يَعْلَمُهَا وَلَا حَبَّةٍ

یقیناً گمراه به شم دغه وخت اونه به یم څه دَ هدایت والونه (۵۶) اُوایه: یقیناً څه په ښکاره دلیل باندے یم دَ طرف رب خپل نه اوتاسو دروغژن ګڼرئ هغے لره نیشته څماسره هغه شے چه په تلوارسره غواړئ تاسوهغے لره، نه دے اختیار مګر اللّٰه تعالیٰ لره دے بیانوی حق لره اوهغه غوره دَ فیصله کؤونکونه دے (۵۷) ته اُوایه: که چرے وے څماپه اختیار کښ هغه شے چه تاسو په تلوارے غواړئ هغے لره څامخا فیصله به کړے شویوے دَ کار په مینځ ستاسو کښ او اللّٰه تعالیٰ ښه پوهه دے په ظلم کؤونکو باندے (۵۸) اوپه نیزدَ اللّٰه تعالیٰ کنجیانے دَ غیب دی نه پوهیږی په هغے مګر یو اللّٰه تعالیٰ او پوهیږی په هغه څه چه په وچه کښ دی اوپه لونده کښ دی اونه پرے وځی هیڅ پانړه مګر پوهه دے په هغے اللّٰه تعالیٰ اونه پریوځی دانه

دَ توحید کوے یعنی ته جاهل ئے؟ جواب: دا دے چه دا مسئله باربارځکه بیانوؤچه دَتوحید اودَ شرك لارے جداجدا معلوم شی ﴿وَلِتَسْتَبِيْنَ﴾ دَ دے نه مخکښ معطوف علیه پټ دے لیظهر لك الی الحق ولتستبین۔

[۵۶] دا هم ادب اوطریقے دَ تعلیم دی اودَ سوالاتوجوابونه دی۔ اول سوال: بندګی دَ غیر اللّٰه جائز ده ولے نه کوئے؟ جواب اوشوچه څه منع کړے شوے یم۔ دویم سوال: زمونږ دَ دین تابعداری ولے نه کوئے؟ جواب: اوشودا خواهشات دی اوسبب دَ ضلال اودَ ترك هدایت دے په دے ایت کښ ذکر دے دَ سبیل المجرمین چه عبادت دَ غیراللّٰه دے۔

[۵۷] دا دَ دریم سوال جواب دے چه ستا په خبره باندے څه دلیل شته؟ جواب دا چه دلیل شته لیکن تاسو ئیے نه منئے دا بیان دَ نهیت دے چه نهی په بَیِّنَة سره شویده اومراد دَ بَیِّنَه نه قرآن دے ﴿مَا تَسْتَعْجِلُوْنَ﴾ مراد دَ دینه عذاب دَ دُنیا دے لکه په سورة انفال۳۲ کښ دی یا قیامت دے لکه سورة شوریٰ(۲۸) کښ دی۔ ﴿اِنِ الْحُكْمُ﴾ حکم تکوینی اوتشریعی دواړه مراد دی داسے په سورة یوسف(۴۰، ۶۷) کښ هم دی۔ ﴿يَقُصُّ الْحَقَّ﴾ قص تفصیلی بیان ته وئیلے شی یا یقص په معنیٰ دَ یقضیٰ دے لکه چه بل قرائت کښ راغلے دے هرکله چه حکم اوقضا مستلزم ده فیصلے لره دَ دے وجے نه الفاصلین ئیے اُوئیلو۔

[۵۸] دا دَ څلورم سوال جواب دے چه هرکله مونږپه باطله یو نوپه مونږعذاب ولے نه راولے کیدیشی چه تاته ئیے اختیاردَ عذاب درکړے وی۔ جواب اوشوکه ماسره اختیار وے نومابه زر فیصلے کړے وے۔ سوال: په حدیث دَ مسلم کښ ذکردی چه دَ طائف نه په واپسئ کښ ملك الجبال نبیﷺ ته ښکاره شوکه ته غواړے چه ستا دا مخالفین دَ غرونو ترمینځ او چقووم نو معلومه شوه چه دَ نبیﷺ په اختیارکښ عذاب وؤ؟ جواب: په وخت دَ طلب کولودَ منکرینوکښ عذاب لره دَ نبیﷺ په اختیار کښ نه وؤ۔ اوحدیث کښ دانیشته چه دوی عذاب طلب کړے وؤ داخوصرف ملك الجبال عرض کړے دے۔ (ابن کثیر)

فِيْ ظُلُمٰتِ الْاَرْضِ وَلَا رَطْبٍ وَّلَا يَابِسٍ اِلَّا فِيْ كِتٰبٍ مُّبِيْنٍ ﴿۵۹﴾ وَهُوَ الَّذِيْ يَتَوَفّٰكُمْ بِالَّيْلِ
وَيَعْلَمُ مَا جَرَحْتُمْ بِالنَّهَارِ ثُمَّ يَبْعَثُكُمْ فِيْهِ لِيُقْضٰٓى اَجَلٌ مُّسَمًّى ۚ ثُمَّ اِلَيْهِ مَرْجِعُكُمْ ثُمَّ
يُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۶۰﴾ وَهُوَ الْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهٖ وَيُرْسِلُ عَلَيْكُمْ حَفَظَةً ؕ حَتّٰٓى اِذَا جَآءَ

په تیرو دَ څمکه کښ اونه لوند اونه وچ مګر په کتاب ښکاره کښ دی (۵۹) او خاص الله هغه ذات دے چه اوده کوی تاسو دَ شپے او پیژنی هغه کارونه چه کوئے ئے تاسو دَ ورځے بیاراویخه وی تاسو په بله ورځ کښ دپاره دَ دے چه پوره کړے شی نیټه مقرره، بیاخاص هغه ته پیشی ستاسو ده بیابه خبردرکړی تاسو لره په هغه عملونو چه تاسوئے کوئے (۶۰) او خاص الله تعالیٰ زور آوردے پورته دے دَ بندګانونه او رالیږی په تاسو باندے ساتونکی ملائك ترهغے چه کله راشی

[۵۹] هرکله چه اُوئیلے شو چه دَ نبی ﷺ سره اختیاردَ عذاب نیشته نوسوال راغے چه اختیارخوورسره نیشته لیکن علم دَ وخت دَ عذاب به ورسره وی نوپه دے ایت کښ دَ هغے خبرے جواب دے۔ په ایت کښ په اوله جمله کښ علم کلی محیط په جمیع مغیباتوباندے اجمالی ذکرشوبیائے تفصیل ذکرکړوچه موجودات دوه قسمه دی اعیان اواعراض نواعیان دوه قسمه دی برّی اوبحری اواعراض هم دوه قسمه دی اوصاف اوحرکات اوصاف دوقسمه دی رطب اویابس۔ اوحرکات هم دوه قسمه دی حرکت دَ اوچت نه زمکے ته اوحرکت دَ سطح دَ زمکے نه دا خل دَ زمکے ته نوپه دے کښ ټول موجودات داخل شول ﴿مَفَاتِحُ﴾ جمع دَمفتح ده خزانے ته وئیلے شی یا جمع دَ مِفتح ده نوچا بیانوته وئیلے شی اوحدیث دَ بخاری کښ چه فرمائیلی دی مفاتح الغیب خمس نودا دَحصردپاره نه دی بلکه ټپوس کوونکوصرف دابنځه ټپوسونه کړی وونودا دَ هغے جواب دے ﴿الْبَرِّ﴾ دَ بر(اوچه) نه دَانسان فائدے ډیرے دی اودَانسان علم دَ برسره ډیرمتعلق دے ځکه ئے هغه مخکښ ذکرکړو ﴿مَاتَسْقُطُ مِنْ وَّرَقَةٍ﴾ په دے کښ ډیرعموم دے چه صرف علم دَ ورقے نه بلکه دَ حرکت علم هم دَ الله تعالیٰ سره دے ﴿رَطْبٍ وَّلَايَابِسٍ﴾ هر ژوندے او مړانسان اوجن بلکه ټول ځیزونوته شامل دے ﴿كِتَابٍ مُّبِيْنٍ﴾ دوه قولونه دی اول علم دَ الله دویم لوح محفوظ۔

[۶۰] دا بل دلیل عقلی دے چه ستاسو اوده کیدل او بیداربدل په اختیار دَ الله تعالیٰ کښ دی نو مخکښ ئے عموم دَ علم ذکر کړو اوس عموم دَ قدرت ذکرکوی ﴿يَتَوَفّٰكُمْ﴾ توفی اخستل دَ ځیزدی پوره اطلاق ئے په خوب اوپه مرګ دواړو باندے کیږی سمعانی وئیلی دی چه دلته مراد قبض دَ نفس متمیزه متصرفه دے ﴿بِالنَّهَارِ﴾ دَ دے نه تیره شوے ورځ مراد ده اوفیه نه مراد راتلونکے ورځ ده ﴿اَجَلٌ مُّسَمًّى﴾ مراد دَ دے نه دَ هرانسان نیټه دَ مرګ ده۔

اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ تَوَفَّتْهُ رُسُلُنَا وَهُمْ لَا يُفَرِّطُوْنَ ﴿٦١﴾ ثُمَّ رُدُّوْٓا اِلَى اللّٰهِ مَوْلٰىهُمُ الْحَقِّ ؕ اَلَا لَهُ الْحُكْمُ ۫ وَهُوَ اَسْرَعُ الْحٰسِبِيْنَ ﴿٦٢﴾ قُلْ مَنْ يُّنَجِّيْكُمْ مِّنْ ظُلُمٰتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ تَدْعُوْنَهٗ تَضَرُّعًا وَّ خُفْيَةً ۚ لَئِنْ اَنْجٰىنَا مِنْ هٰذِهٖ لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الشّٰكِرِيْنَ ﴿٦٣﴾ قُلِ اللّٰهُ يُنَجِّيْكُمْ مِّنْهَا وَمِنْ كُلِّ كَرْبٍ ثُمَّ اَنْتُمْ

یوتن ستاسوته مرګ ساه اخلی دَهغه نه ملائك ځمونږ او دوی هیڅ کوتاهی نه کوی په حکم دَ الله تعالی کښ(٦١) بیابه پیش کړے شی الله تعالی ته چه مالك دَ دوی دے حق دے خبردار خاص هغه لره اختیار دے اوهغه زر حساب کؤونکے دے (٦٢) ته اُوایه: څوك بچ کوی تاسو دَ تیارو دَ اوچے او دَ دریابونو نه چه بلئے تاسوهغه په عاجزئ سره اوپه پټه سره که بچ ئے کړو مونږ دَ دے(مصیبت)نه خامخا شوبه مونږ دَ شکر ګذارونه (٦٣) اُوایه: الله تعالی به بچاؤ درکوی تاسوته دَهغے نه اودَ هر غم نه بیا تاسو

[٦١] دا هم دلیل عقلی دے چه زور اور الله تعالی دے، اومرګ هغه راولی تاسو دَ مرګ نه نشئے بچ کیدے اودے ایت نه معلومه شوه چه ملائك دَ مرګ ډیردی، ملك الموت ﷺ بعض کسانوله ځی دَساه اخستلودپاره هغه هرځائے حاضرناظرنه دے۔ مخکښ ایت کښ توفی دَ خوب ذکرشوه۔ په دے ایت کښ توفی دَ موت ذکرکوی ﴿وَهُوَ الْقَاهِرُ فَوْقَ﴾ قهرپه ځیز باندے غلبے ته وئیلے شی اوغلبه په یوځیزباندے اوچتوالی لره مستلزم ده ځکه دَ قهرسره فوق ذکرکوی اوقهردَ الله تعالی په مختلف طریقوسره دے قهردَمعدوم په ایجاد سره دے اوقهرپه موجود باندے په فناء کولوسره دے ﴿وَيُرْسِلُ عَلَيْكُمْ حَفَظَةً﴾ دا هم یوصورت دَ قهردَ الله تعالی دے یعنی غلبه په حفاظت کولوسره اومراد دَ دے نه هغه ملائك دی چه ذکردی په سورة رعد (١١) اوداسے په سورة انفطار(١٠)کښ هم دی ﴿تَوَفَّتْهُ رُسُلُنَا﴾ داسے په سورة اعراف ٣٧ اوسورة نساء (٩٧)کښ هم ذکر دی۔ سوال: په دے ایاتونوکښ نسبت دَ توفی ډیروملائکوته کړے شویدے اوپه سورة الم سجده (١١)کښ ملك الموت ته نسبت دے اوپه سورة زمر(٤٢)کښ الله تعالی ته نسبت دے؟ جواب: نسبت خو الله تعالی ته په اعتباردَ امراو اذن اواختیاردَ الله تعالی سره دے اوهرچه نسبت دے ډیرملائکوته دَ دے توجیه دا ده چه دوی اعوان (ملګری) دَ ملك الموت دی چه ملك الموت روح قبض کړی نو دوی ئے ترینه واخلی یا دَ ملك الموت په امرسره دا ملائك په مړوباندے تقسیمیږی۔

[٦٢] دے ایت کښ اثبات دَ قیامت دے اودَ الله تعالی درے صفات دی ﴿مَوْلٰهُمْ﴾ دلته په معنیٰ دَ مالك اومتصرف دے نو کافرانوته ئیے هم نسبت کیدے شی اوپه سورة محمد (١١)کښ مَولا په معنیٰ دَ ناصردے په دغه معنیٰ سره نفی دے دَکافرانونه ﴿الْحَقِّ﴾ دَ هغه ولایت یقینی دے اودارنګ همیشه دے ﴿اَلَا لَهُ الْحُكْمُ﴾ یعنی روستودَ رد نه فرمائي چه اختیاردَ فیصلے کولوصرف الله تعالی لره دے بل چاته ئیے دا اختیارنه دے سپارلے ﴿اَسْرَعُ﴾ په حدیث سره ثابت ده چه الله تعالی به دَ ټول مخلوق په دو مره وخت کښ حساب اوکړی چه دَ دُنیا دَ ورځونه به سحرنه ترغرمے پورے وخت وی۔

[٦٣] دا بل دلیل عقلی دے چه په ډیرے سختئی کښ تاسوهم الله تعالی ته را مددشه وائیے نودارنګ په هرتکلیف کښ دَ هغه نه مدد غواړئے اودَ هغه بندګی خاص کړئے۔ ربط د دے ایت دا دے چه دا دلیل دے په دے خبره چه کافران هم الله تعالی مولا حق ګنړی حکم دَ هغه دپاره منی په دلیل دَ دے چه دوی په

تُشْرِكُوْنَ ﴿٦٤﴾ قُلْ هُوَ الْقَادِرُ عَلٰٓى اَنْ يَّبْعَثَ عَلَيْكُمْ عَذَابًا مِّنْ فَوْقِكُمْ اَوْ مِنْ تَحْتِ اَرْجُلِكُمْ اَوْ يَلْبِسَكُمْ شِيَعًا وَّيُذِيْقَ بَعْضَكُمْ بَاْسَ بَعْضٍ ؕ اُنْظُرْ كَيْفَ نُصَرِّفُ الْاٰيٰتِ لَعَلَّهُمْ يَفْقَهُوْنَ ﴿٦٥﴾ وَ

شرك كوئ (٦٤) ته اُوايه: اللّٰه تعالىٰ قادر دے په دے چه رااولیږی په تاسو باندے عذاب دَ بره طرف ستاسونه یا لاندے دَ خپوستاسونه یابه گډ کړی تاسو سره مختلفے خیال والاړلے او اوبه څکوی بعض ستاسوته جنګ دَ بعضو او ګورہ څنګه قسما قسم بیانؤو دلیلونه د دے دپاره چه دوی پوهه شی(٦٥) او

سختو کښ صرف اللّٰه تعالىٰ ته رامدد شه وائي ﴿ظُلُمٰتِ﴾ مراد حقیقی تیارے دی چه په صحرا یا څنګل کښ تیارے دَ شپے اودَ وریځے کښ راګیرشی اوپه دریاب کښ په تیارودَ شپے اودَ وریځو اوپه تیارودَ سیلئ اوپه چپو کښ راګیرشی یا مراد دَ ظلمات نه سختئ او تکلیفونه دی په اوچه یا په دریاب کښ چه په انسان باندے داسے هیبت راولی چه بیائے نظرهم نه لږی پشان دَ تیارو ﴿تَضَرُّعًا وَّخُفْيَةً﴾ مراد دَ تضرع نه معنیٰ مشهوره ده یا په معنیٰ دَعلانیه دے اوجهر په ژبه اوخفیه په زړه کښ نومراد ترینه دواړه طریقے دی ښکاره او پټ ﴿الشّٰكِرِيْنَ﴾ سمعانی اوشربینی وئیلی دی چه شکر پیژندل دَ نعمت سره دَادا کولودَ حق دَ منعم نه۔

[٦٤] دا جواب دے دَ مخکښ سوال او دلیل دے چه اللّٰه تعالىٰ دَ هرمصیبت نه نجات ورکوؤنکے دے نوتاسو ولے هغه سره شریك جوړوئے ﴿كَرْبٍ﴾ هغه غم دے چه ساه ورسره ډوبه شی یعنی نهایت غم۔

[٦٥] دا بل دلیل عقلی دے دَ عذاب اختیاردَ یواللّٰه تعالىٰ سره دے اودارنګ دا یره دُنیوی ده۔ ربط دا دے چه هرکله دَ یو تکلیف نه اللّٰه تعالىٰ تاسوته نجات درکړی اوبیا تاسوشرك کوئے نواللّٰه تعالىٰ قادردے چه په بله طریقه په تاسوعذاب را اولیږی ﴿اَنْ يَّبْعَثَ عَلَيْكُمْ﴾ خطاب مشرکانو کافرانوته دے دا دَ حسن بصری نه نقل دے یا اُمت دَ محمدﷺ ته خطاب دے لکه چه مجاهد نه روایت دے لیکن بنا په روستنی قول باندے اول دواړه عذابونه اللّٰه تعالىٰ دے اُمت ته معاف کړیدی په سبب دَ دُعا دَ نبی ﷺ ابن کثیرد دے ایت په تفسیر کښ اُولس (١٧) احادیث په دغه یومضمون سره ذکرکړیدی ﴿مِنْ فَوْقِكُمْ﴾ سیلئی، صیحه، کانړی ورول، طوفان لکه په قوم نوحؑ عاد، ثمود، قوم لوطؑ اصحاب فیل باندے وؤ ﴿اَرْجُلِكُمْ﴾ غرق اوخسف لکه فرعون اوقارون باندے اوابن عباس اومجاهد نه مفسرینو نقل کړیدے چه مراد دَ اول نه امراء سوء دی اودَ دویم نه نافرمانه خدمتګاران اواولاد دی اوزمخشری وئیلی دی چه برے نه باران بندول اودَ زمکے نه بوټی بندول دا فوق اوتحت عذاب دے ﴿شِيَعًا﴾ هغه مختلفے ډلے چه دَخواهشاتوتابع وی لکه چه حدیث کښ ثابت دی چه پدے اُمت کښ به درے اویا ډلے پیداکیږی دَ یونه علاوه به ټول دَخواهشاتو تابع وی۔ اودا هم مستقل عذاب دے اودا سبب دَ بل عذاب دے چه ﴿يُذِيْقَ بَعْضَكُمْ بَاْسَ بَعْضٍ﴾ مراد ترینه قتل وقتال دے په کورنئی کښ ﴿لَعَلَّهُمْ يَفْقَهُوْنَ﴾ معلومه شوه چه قسما قسم ایاتونو دَ قرآن اودلیلونوسره فقاهت حاصلیږی۔

كَذَّبَ بِهٖ قَوْمُكَ وَهُوَ الْحَقُّ ؕ قُلْ لَّسْتُ عَلَيْكُمْ بِوَكِيْلٍ ﴿٦٦﴾ لِكُلِّ نَبَاٍ مُّسْتَقَرٌّ ۫ وَّسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ﴿٦٧﴾ وَ
اِذَا رَاَيْتَ الَّذِيْنَ يَخُوْضُوْنَ فِيْۤ اٰيٰتِنَا فَاَعْرِضْ عَنْهُمْ حَتّٰى يَخُوْضُوْا فِيْ حَدِيْثٍ غَيْرِهٖ ؕ وَاِمَّا يُنْسِيَنَّكَ
الشَّيْطٰنُ فَلَا تَقْعُدْ بَعْدَ الذِّكْرٰى مَعَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٦٨﴾ وَمَا عَلَى الَّذِيْنَ يَتَّقُوْنَ مِنْ حِسَابِهِمْ مِّنْ شَيْءٍ وَّ

دروغژن ګڼړی دے لره قوم ستا او داحق دے اووایه نه یم ځه په تاسو باندے ذمه وار (٦٦) دپاره دَ هر خبر وخت مقرر دے اوزر ده چه تاسو به پوهه شئے (٦٧) اوکله چه ته اووینے هغه کسان چه (ناروا) بحث کوی په آیاتونو ځمونږ کښ پس مخ واړوه دَ دوینه تردے چه مشغوله شی په نورو خبرو کښ اوکه چرے هیرکړی ستانه شیطان پس مه کینه پس دَ یاداشت نه دَ قوم ظالمانو سره (٦٨) اونیشته په هغه کسانو چه ځان ساتی(دَ شرك نه) دَ حساب دَهغوی نه څه شے او

[٦٦] دا زورنه ده نه منونکوته اوضمیرد َ به قرآن یا عذاب یا تصدیق الایات ته راجع دے ﴿بِوَكِيْلٍ﴾ هغه څوك چه کار او اختیار ورته سپارلے شوے وی نوتکذیب نه منع کول کولے شی۔

[٦٧] دا جواب دَ سوال دے چه دوی انکارکوی نوعذاب وریاندے ولے نه راځی؟ جواب: دا دے چه دَ هغے مقرر نیټه ده ﴿نَبَاٍ﴾ هغه خبرچه په قرآن کښ موجود وی دَ دُنیا عذاب یا دَ اخرت عذاب یا دَ قرآن عام کول۔

[٦٨] دا ادب دے چه کله په یومجلس کښ دَ شرك اوبدعت اوفسق خبرے کیږی نودغه مجلس کښ شریك کیدل منع دی، صرف دَ هغوی دَ نصیحت دپاره تلل جائزدی۔ ربط دادے چه مخکښ ذکرکړل مستحقین دَ عذاب په سبب دَ تکذیب سره اوچه ورسره استهزاء اوطعن ملګرے کړی نودَ هغوی حال اوس ذکرکوی۔ دارنګ تکذیب کوؤنکی یوخوطعن اواستهزاء کوؤنکی دی دویم دین لره لهولعب ګنړونکی دی نودَ اول قسم ذکر پدے ایت کښ کوی اودَ دویم قسم ذکربه په(٧٠)کښ کوی ﴿وَاِذَا رَاَيْتَ﴾رویت، لیدل دَ سترګواوعلم دواړوته عام دے ﴿الَّذِيْنَ يَخُوْضُوْنَ﴾ خوض په لغت کښ په اوبو کښ ننوتلو (غوپه کیدلو) ته وئیلے شی اوبیا استعمالیږی په مشغوله کیدلو په لغو اوعبث خبرو یا کارونو کښ۔ بل قول دا دے چه خوض خلط (ګډوډ کولو) ته وئیلے شی۔ قرطبی دَ مجاهد نه نقل کړے دے چه مراد دَ دے نه هغه څوك دی چه استهزاء کوی په قرآن پورے ﴿فِيْۤ اٰيٰتِنَا﴾ مراد دَ دے نه قرآن دے او ټولواحکاماوادینی مسئلوته شامل دے ﴿حَتّٰى يَخُوْضُوْا فِيْ حَدِيْثٍ غَيْرِهٖ﴾ ضمیرمذکورایاتونو ته په اعتباردَ قرآن سره راجع دے یعنی داسے بحث کوی چه په هغے کښ استهزاء او طعن دَ قرآن اودَ دین نه وی اوتحریف اوغلط تاویلات نه وی۔ اوتفسیردَ خوض اواعراض په سورة نساء (١٤٠) کښ ذکردے ﴿وَاِمَّا يُنْسِيَنَّكَ الشَّيْطٰنُ﴾ یعنی هیرکړی عمل په دے قول باندے چه فاعرض اولاتقعد اودا دلیل دے په دے خبره باندے چه په نبی ﷺ باندے نسیان راتلے شی اودامسئله سرهٔ دَ اختلاف نه قرطبی لیکلے ده ﴿بَعْدَ الذِّكْرٰى﴾ ذکرىٰ په معنیٰ دَ یاد داشت دَ حکم دَ اللّٰه تعالیٰ دے په اعراض سره یا په معنیٰ دَ نصیحت کولواومنع کولودَ خوض فی الایات نه۔

لٰكِنْ ذِكْرٰى لَعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ ﴿٦٩﴾ وَذَرِ الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا دِيْنَهُمْ لَعِبًا وَّلَهْوًا وَّغَرَّتْهُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا وَ
ذَكِّرْ بِهٖٓ اَنْ تُبْسَلَ نَفْسٌۢ بِمَا كَسَبَتْ ۖ لَيْسَ لَهَا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلِيٌّ وَّلَا شَفِيْعٌ ۚ وَاِنْ تَعْدِلْ كُلَّ
عَدْلٍ لَّا يُؤْخَذْ مِنْهَا ۗ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ اُبْسِلُوْا بِمَا كَسَبُوْا ۚ لَهُمْ شَرَابٌ مِّنْ حَمِيْمٍ وَّعَذَابٌ اَلِيْمٌۢ
بِمَا كَانُوْا يَكْفُرُوْنَ ﴿٧٠﴾ قُلْ اَنَدْعُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَنْفَعُنَا وَلَا يَضُرُّنَا وَ نُرَدُّ عَلٰٓى اَعْقَابِنَا

لیکن (په دوی باندے) نصیحت کول دی دے پاره چه دوی بچ شی(٦٩) اوپریږ ده هغه کسان چه جوړ کړے دے دین خپل لوبے اومشغله او دهوکه کړی دی دوی لره ژوند دُنیوی اوبیان کړه قرآن چه راکیږنه شی یو نفس په سبب دَ عمل خپل نه به وی دهٔ لره سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه دوست بچ کؤونکے اونه سفارشی اوکه جرمانه ورکوی هره جرمانه نه به شی اغستے کیدے دَ هغه نه دغه کسان هغه دی چه گیربه شی په سبب دَ عمل خپل دوی دپاره ځکل دی دَ ګرمو اوبو نه اوعذاب دردناك دے په سبب دَ هغے چه دوی کفر کوی (٧٠) اووایه: آیا رااوبلو سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه هغه څوك چه نه فائده راکولے شی مونږ ته اونه ضرر راکولے شی او واپس شو مونږ په پوندو خپلو

[٦٩] دا هم متعلق دے دَ مخکښ ایت سره چه دَ مؤمنانوپه ذمه باندے تبلیغ اونصیحت کول دی دے خلقوته هرکله چه دَ هغوی مجلس کښ شریك شی په محبورئے سره۔ په دے ایت کښ دوه توجیه دی اول داچه مشرکان ستاسومجلس ته راشی اوخوض کوی نوپه تاسوباندے ګناه نیشته۔ دویم داچه یتقون معنیٰ دا ده چه ځان بچ کوی دَشرکت دَ مجلس دَ هغوی نه نو په هغوی باندے دَ مشرکانودَکارونو هیڅ حساب نیشته لیکن صرف په هغوی باندے تذکیراونصیحت کول دی۔

[٧٠] دا بل ادب دے په باره دل دویم قسم خلقوکښ چه دین ئیے لهوولعب ګنړلے دے اودا ایت هم مخکښ ادب سره متعلق دے چه دَ دغه خلقوسره قطع تعلق اوکړه اوبیا یره اُخروی ده ﴿اِتَّخَذُوْا دِيْنَهُمْ لَعِبًا وَّلَهْوًا﴾ یومعنیٰ دا ده چه دین توحید اوسنت پورے توقے کوی اوعبث ئیے ګنړی پشان دَ لوبو کولویا ځان مشغولولولکه کیمونسټ وائي چه دا دین صرف دَافیون پشان دے۔ دویمه معنیٰ دا ده چه کوم شے چه لوبے دی دَ هغے نه ئیے دین جوړکړے دے لکه عرسونه په قبرونودَ اولیاء یا قوالی اوګډاکول چه بعض متصوفواوملنګانودیته دین وئیلے دے۔ دریمه معنیٰ داده چه لعب او لهو دُنیا ده، یعنی دین ئیے دَ دُنیا دپاره ذریعه ګرځولے ده دَ دُنیا جاه یا مال پرے ګټی لکه بعض سیاسیان دَ دے زمانے چه دَ قرآن اودَ اسلام په نوم ځان کرسئی ته اورسوی او بیا دَ دین تپوس نه کوی۔دارنګ اجرتیان چه قرآن لوستل اودَ دین کاردَ دُنیا حاصلولوپه نیت سره کوی دریمه توجیه غوره ده (چه دین ئیے دَ دُنیا دپاره ذریعه جوړه کړیده) دَ دے وجے نه ورپسے (غرتهم الحیٰوة الدنیا) ذکرکړے دے ﴿وَذَكِّرْ بِهٖٓ﴾ ضمیر قرآن ته راجع دے اوپه دے کښ اشاره ده چه په ذکرکښ ترك دَ دعوت مراد نه دے بلکه بے پرواه کیدل او انتظاردَ عذاب دَ هغوی مراد دے ﴿اَنْ تُبْسَلَ﴾ دَ دے په معنیٰ کښ مختلف تعبیرات دی(١) حبس، بندیدل، راګیرول،کانړه کیدل(٢) فصیحت شرمیدل، اوکلام په اصل کښ کراهیة یا لئلا تبسل دے ﴿شَفِيْعٌ﴾ دا خاص دے په مشرك کافر پورے یا مراد دا چه بغیرَ اذن دَ اللّٰه تعالیٰ سفارشی به نه وی نوعام دے۔

بَعْدَ اِذْ هَدٰىنَا اللّٰهُ كَالَّذِي اسْتَهْوَتْهُ الشَّيٰطِيْنُ فِي الْاَرْضِ حَيْرَانَ ۖ لَهٗۤ اَصْحٰبٌ يَّدْعُوْنَهٗۤ اِلَى الْهُدَى ائْتِنَا ؕ قُلْ اِنَّ هُدَى اللّٰهِ هُوَ الْهُدٰى ؕ وَ اُمِرْنَا لِنُسْلِمَ لِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۷۱﴾ وَ اَنْ اَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاتَّقُوْهُ ؕ وَهُوَ الَّذِيْۤ اِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ ﴿۷۲﴾ وَهُوَ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ ؕ وَيَوْمَ يَقُوْلُ كُنْ فَيَكُوْنُ ۘ قَوْلُهُ الْحَقُّ ؕ وَلَهُ الْمُلْكُ يَوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّوْرِ ؕ عٰلِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ ؕ

الثلثة

پس دَ هغے نه چه هدایت کړے دے مونږ ته اللّٰه تعالیٰ (اوشوبه) پشان دَهغه چاچه بے لارے کړے وی هغه لره شیطانانو په زمکه کښ چه حیران وی دهٔ لره ملګری وی بلی دهٔ لره هدایت ته چه راشه مونږ ته اووایه ته یقیناً هدایت دَ اللّٰه تعالیٰ دغه صحیح دین دے اوحکم کړے شوے دے مونږ ته چه اخلاص دِ کؤو رب العٰلمین ته (۷۱) اوحکم شویدے چه پابندی کوئ دَمانځه او ویره کوئ دَهغه نه اوخاص هغه ته به تاسو جمع کړے شئ (۷۲) اوخاص اللّٰه تعالیٰ هغه ذات دے چه پیداکړی ئے دی آسمانونه اوزمکه دَ حق بنکاره کولو دَ پاره(اواختیار لری) دَ هغے ورځ چه اوبه وائی اوشه پس اوبه شی وینا دَهغه حقه ده اوخاص هغه لره بادشاهی ده په هغه روز چه پوکے به اوکړے شی په شپیلئ کښ(هغه) عالم دے په هریت اوښکاره باندے

[۷۱] دا نتیجه دَ تیرشوؤ دلیلونو ده اورد دَ شرك فی الدعاء دے اوپه دے سره نور اداب اوطریقے دَ تعلیم ذکرکوی اوجواب دَ سوال دے که دُنیا پرست مشرکان او وائي چه دُنیا پرستی هغه چاته نقصان ورکوی چه دَهغوی ولی اوشفیع دَ اللّٰه تعالیٰ نه سیوا نه وی (مؤحد وی) نوراشئ دَ اللّٰه تعالیٰ نه سیوا ولی اوشفیع اونیسئے اوهغه ته را مدد شه وائیے نوکامیاب به شئ نودَ هغے جواب دے په دے ایت کښ چه دَ ما نه ولی اوسفارشی مراد دے ﴿وَنُرَدُّ عَلٰۤى﴾ دا عطف دَ مسبب دے په سبب باندے یعنی دُعا دَ غیراللّٰه سبب دَ ارتداد دے ﴿كَالَّذِي اسْتَهْوَتْهُ﴾ دا حال دے چه شوبه په داسے حال کښ مونږمشابه دَ هغه چا سره ﴿اسْتَهْوَتْهُ﴾ دَ هویة نه ماخوذ دے په معنیٰ دَکندے سره یعنی چه غورځولے وی شیطانانوپه کنده کښ یا دَ هوی نه ماخوذ دے په معنیٰ دَ خواهش دے یعنی گرځولے وی شیطانانوتابع دَ خواهشاتواوبخاری وائي یعنی گمراه کړے وی هغه لره شیطانانو ﴿حَيْرَانَ﴾ حال دے یعنی داسے حیران وی چه صحیح لارنه پیژنی ﴿لَهٗۤ اَصْحٰبٌ﴾ یعنی دَ ملګروخبره هم نه منی حاصل دَ مثال دا دے چه یوسړے دَ ملګرو سره بهر وتلے وی نو پیریان اوشیطانان ترینه لار ورکه کړی نوملګری ئے صحیح لار ته رابلی اوشیطانان ئے ګلپوډکوی دَ لارے نه نوصحیح لارے ته نشی راتلے نودارنګ هغه څوك چه غیراللّٰه ولی اوشفیع ګنړی او حاجتونوکښ ورته رامدد شه وائي نورمؤحدین ئے توحید ته رابلی لیکن ګمراهانوپیرانوملیانودَ هغه په دماغوقبضه کړے ده نو هغه دَ توحید خبرے ته غوږهم نږدی ﴿قُلْ﴾ جواب سوال دے۔ سوال دا چه هغه مشرك وائي چه زمالا رد هدایت ده څه بله لارنه منم؟ جواب دادے ﴿قُلْ اِنَّ هُدَى اه-وَاُمِرْنَا﴾ دا هم جواب دے دَ هغوی دَ دعوے هغوے وائي زمونږپیرانومونږته دا لارخودلے ده مونږدَ هغوی تابع یوجواب اوشو ﴿وَاُمِرْنَا﴾۔

[۷۲] دا ذکردَ حق دَ اللّٰه دے په توحید سره دا عطف دے په لنسلم باندے په تاویل سره یعنی ولنقیم الصلوة یا امرنا ان اسلموا وان اقیموا الصلوة دا هم عملی فرق دے په مینځ دَ فریقینوکښ یعنی اصحاب دَ

وَهُوَ الْحَكِيْمُ الْخَبِيْرُ ﴿۷۳﴾ وَاِذْ قَالَ اِبْرٰهِيْمُ لِاَبِيْهِ اٰزَرَ اَتَتَّخِذُ اَصْنَامًا اٰلِهَةً ۚ اِنِّيْٓ اَرٰىكَ وَقَوْمَكَ
فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۷۴﴾ وَكَذٰلِكَ نُرِيْٓ اِبْرٰهِيْمَ مَلَكُوْتَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَلِيَكُوْنَ مِنَ

او هغه حکمتونو والا دے خبر دار دے(۷۳) او کوم وخت چه اویل ابراهیم (علیه السلام) پلار خپل ته(نوم ئے) ازرؤ وایاکنړے ته بُتان(ماسیوا الله لره) حاجت پوره کؤونکی یقیناً ځه وینم تاله او قوم ستاپه ګمراهئ ښکاره کښ (۷٤) اودغسے اوخودل مونږه ابراهیم(علیه السلام) ته (دلیلونه) دَ بادشاهئ دَ آسمانونو او دَ زمکے (چه دلیل پرے اونیسی)اوچه شی دے دَ

توحید امرکوی اودارنګ ماموردی په اقامة الصلوة اوپه تقویٰ سره اوپه عقیده دَ حشرسره اودُعا کوؤنکی دَ غیر الله دا حقوق الٰهیه نه ادا کوی۔

[۷۳] دا بل دلیل عقلی دَ توحید دے چه پیداکول دَ دُنیا او ورانول دَ دُنیا دواړه دَ الله تعالیٰ په اختیار کښ دی کارسازهم دے اوغیب دان هم دے ﴿وَهُوَ الَّذِیْ﴾ عطف دے (وهوالذی الیه تحشرون) باندے ﴿بِالْحَقِّ﴾ سمعانی وئیلی دی چه په معنیٰ دَ اظهارحق دے (یعنی دلیل دَتوحید) یا په معنیٰ دَکلام حق دے (شربینی) اودا دلیل دے چه کلام دَ الله مخلوق نه دے بلکه سبب دَ خلق دے ﴿وَيَوْمَ﴾ عطف دے په السموات اه باندے (یعنی تقدیرئیے کړیدے دَ ورځ دَ قیامت) یا لفظ دَ اذکرپټ مُراد دے ﴿كُنْ فَيَكُوْنُ﴾ مراد ترینه مړه کول اوبیا ژوندی کول دَ خلقودی په کلمه دَکن سره﴿يُنْفَخُ فِي الصُّوْرِ﴾ نفخ فی الصورپه قرآن کښ لس کرته ذکرده اودائیے اول ایت دے هرکله چه داسورت دَ تفصیل دَ عقیدے دپاره دے نودَ دے وجے نه په دے کښ اول ځل باندے دا مسئله ذکرکړه اونفخ فی الصوردَ اهل تحقیق په نیزدوه کرته ده اول دَ فنا دپاره اودویم دَ بعث بعدالموت دپاره اوپه دے کښ دواړوته عام ده۔ صورپه اصل کښ قرن (خکر) ته وئیلے شی اومراد دَ دے نه هغه قرن(شپیلئی) ده چه اسرافیل علیه السلام به په هغے کښ په حکم دَ الله تعالیٰ سره پوکے کوی دپاره دَ فنا دَ مخلوق بیا دپاره دَ دوباره ژوند۔

[۷٤] دَ دے ایت نه څلورم باب دے تر(۹۰) پورے په دے کښ دلیل نقلی دے دَ ابراهیم علیه السلام نه تفصیلاً اودَ اُولس(۱۷) انبیاء علیهم السلام نه اجمالایعنی دَ الله تعالیٰ دَ یو والی مسئله لکه څنګه چه په عقلی دلیلونوسره ثابته ده نودارنګ په ژبه دَ ابراهیم علیه السلام اودَ نوروانبیاؤنه ثابته ده اومشرکین مکه دعویٰ کوله چه مونږه دَ ابراهیم علیه السلام په دین باندے یونودَ ابراهیم علیه السلام دین بیان شو﴿اَصْنَامًا﴾ دَ ستوروشکلونه اودَ نیکانو بندګانو شکلونه ئیے جوړکړی وؤ اودَ هغوی ارواح ئیے مددګارګنړل۔ اصنام جمع دَ صنم ده ابن جریر وئیلی دی هرهغه شکل چه دَ لرګی یاګټے وغیره نه جوړکړے شی چه په شکل دَ انسان یا بل ځه څیز سره وی اوهغه شکل ته هم وئیلے شی چه په د یوال وغیره باندے په شکل دَانسان وغیره سره جوړشی اوهرمعبود من دون الله ته هم وئیلے شی ﴿لِاَبِيْهِ اٰزَرَ﴾ ظاهردَ قرآن دلیل دے چه آزرتوم دَ پلاردَ ابراهیم علیه السلام دے اوتاریخ والولیکلی دی چه دَ هغه نوم تارخ وؤنودَ قرآن په مقابله کښ تاریخ ته هیڅ اعتبارنیشته هاں کیدے شی چه آزر ئیے نوم وی اوتارخ ئیے لقب وی﴿اَتَتَّخِذُ﴾ دا دلیل دے چه صنم (بت اوفوټو) جوړول ناجائز دی اوهرکله چه دَ هغے عبادت کوی اودَهغے داسے تعظیم کوی لکه دَ الله تعالیٰ نودا خوعین شرك دے۔

الْمُوْقِنِيْنَ ﴿۷۵﴾ فَلَمَّا جَنَّ عَلَيْهِ الَّيْلُ رَاٰ كَوْكَبًا ۚ قَالَ هٰذَا رَبِّيْ ۚ فَلَمَّآ اَفَلَ قَالَ لَآ اُحِبُّ
الْاٰفِلِيْنَ ﴿۷۶﴾ فَلَمَّا رَاَ الْقَمَرَ بَازِغًا قَالَ هٰذَا رَبِّيْ ۚ فَلَمَّآ اَفَلَ قَالَ لَئِنْ لَّمْ يَهْدِنِيْ رَبِّيْ لَاَكُوْنَنَّ
مِنَ الْقَوْمِ الضَّآلِّيْنَ ﴿۷۷﴾ فَلَمَّا رَاَ الشَّمْسَ بَازِغَةً قَالَ هٰذَا رَبِّيْ هٰذَآ اَكْبَرُ ۚ فَلَمَّآ اَفَلَتْ قَالَ

یقین کوونکو نه (۷۵) پس هر کله چه اوغوړیدله په دهٔ باندے شپه اوئے لیدلو یوسُتورے دهٔ اُوئیل آیادازمارب دے پس هرکله چه پټ شو هغه ده اویل ځه نه خوښوم(دخدائیتوب دپاره) پتیدونکی(۷۶) پس هرکله اولیدله دهٔ سپوړمئ ځلیدونکے دهٔ اوئیل آیا دا رب ځمادے پس هرکله چه پټه شوه دهٔ اُوئیل که خودنه نه وے کړے ماته رب ځما(دَ توحید) خامخا وے به ځه دَقوم ګمراهونه(۷۷)پس هر کله چه اولیدلو دهٔ نمر ځلیدونکے دهٔ اووئیل ایادا رب دے ځما دالوئے دے (ستاسو په ګمان کښ) پس هرکله چه پټ شو هغه دهٔ اُوئیل

[۷۵] دا ایت دلالت کوی په دے باندے چه ابراهیم علیه السلام دَ شرك ردپه دلیلونوسره کړے وؤ ﴿وَكَذٰلِكَ﴾ کاف دپاره دَ تشبیه دے۔ یعنی لکه چه خودلے وؤمونږهغه ته ضلال دَ شرك یا په معنیٰ دَ علت دے یعنی دَ دغه شرك دَ رد دَ وجے نه خودلی وؤمونږ دهٔ ته دلیلونه ﴿نُرِيْٓ﴾ مراد دَ دے رویت علمی دے ﴿مَلَكُوْتَ﴾ دا مبالغه دَ مِلك ده اودَ مجاهد اوسعید بن جبیرنه شریبنی نقل راوړے دے چه مراد دَ دے نه ایات (دلیلونه) دَ اسمانونواودَ زمکے دی یعنی عقلی افاقی دلیلونه دَ توحید ﴿وَلِيَكُوْنَ﴾ دَ دے نه مخکښ معطوف علیه پټ مراد دے لیستدل دپاره دَ دے چه دلیل اونیسی دپاره دَ رد دَ مشرکانوپه هغے سره ﴿الْمُوْقِنِيْنَ﴾ یقین عبارت دے دَ هغه علم نه چه حاصل شی په دلیل سره اوهیڅ شبه پاتے نه شی۔

[۷۶] دَکوم ستوری عبادت چه دوی کووهغه ښکاره شو ﴿هٰذَا رَبِّيْ﴾ په طریقه دَ تپوس انکاری سره دے یعنی ایا دارب کیدیشی؟ نه، دا قول دَ قطرب دے لکه سورة انبیاء (۳٤) کښ۔ یا دا معنیٰ ده چه دا رب دے په عقیده ستاسو کښ اولکه په سورة حم سجده ٤۷ کښ۔ دا چه وئیلے شویدی چه ابراهیم علیه السلام په عقیدے سره وئیلے وؤچه دا رب دے اوبیا روستوئیے توحید اوپیژندویا دائیے په طریقه دَ شك سره وئیلے دی دا دواړه خبرے باطلے دی ځکه چه انبیاء علیهم السلام دَ شرك نه یقینا پاك دی او دَ هغوی عقیده دَ توحید نه چرے نه خالی کیږی اودا خبره قرطبی اوشربینی اوابن کثیر په تفصیل سره لیکلے ده۔ اودوی وئیلی دی چه جائز نه ده چه په نبی باندے داسے وخت راشی چه هغه دَ توحید نه خالی وی نومعلومه شوه چه دا بیان ابراهیم علیه السلام په طریقه دَ دلیل سره قوم ته پیش کړے وؤ۔

[۷۷] دا دلیل نیول دی په احوالودَقمرسره اودا داسے شپه وه چه په هغے کښ دَکوکب(ستورے دَماښام)نه روستوسپوګمئ ښکاره شوه ﴿بَازِغًا﴾ بزغ په اصل کښ شق ته وئیلے شی نوسپوګمئ اونمرکله چه راښکاره کیږی نوتیارولره اوچوی په خپلے رنړاسره نومراد ترینه شروع کیدل دَطلوع دَهغے دی ﴿لَئِنْ لَّمْ يَهْدِنِيْ﴾ دلیل دَ افول مخکښ ذکرشوے دے اوس په دے جمله کښ حکم دَعبادت دَستوری اوسپوږمئی ذکرکوی چه هغه ضلال اوګمراهی ده اودا دلیل دے چه ابراهیم علیه السلام دَ دے نه مخکښ په هدایت باندے وؤمشرك اوشك کوؤنکے نه وؤاواشاره ده چه انبیاء علیهم السلام هم په هدایت کښ الله تعالیٰ ته محتاج دی۔

يٰقَوْمِ اِنِّيْ بَرِيْٓءٌ مِّمَّا تُشْرِكُوْنَ ﴿۷۸﴾ اِنِّيْ وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِيْ فَطَرَ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضَ حَنِيْفًا
وَّمَآ اَنَا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿۷۹﴾ وَحَآجَّهٗ قَوْمُهٗ ؕ قَالَ اَتُحَآجُّوْٓنِّيْ فِي اللّٰهِ وَ قَدْ هَدٰىنِ ؕ وَلَآ اَخَافُ
مَا تُشْرِكُوْنَ بِهٖٓ اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ رَبِّيْ شَيْـًٔا ؕ وَسِعَ رَبِّيْ كُلَّ شَيْءٍ عِلْمًا ؕ اَفَلَا تَتَذَكَّرُوْنَ ﴿۸۰﴾ وَكَيْفَ
اَخَافُ مَآ اَشْرَكْتُمْ وَلَا تَخَافُوْنَ اَنَّكُمْ اَشْرَكْتُمْ بِاللّٰهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهٖ عَلَيْكُمْ سُلْطٰنًا ؕ فَاَيُّ

اے قومه زما یقیناً څه جدایم دَ هغه نه چه تاسو شریك جوړوئ (۷۸) یقیناً مابرابر کړیدے مخ خپل (ځان خپل) هغه ذات ته چه پیدا کړی دی آسمانونه او زمکه کلك یم په توحید باندے اونهٔ یم څه دَ مشرکانو دَ ډلے نه (۷۹) اوجګړه اوکړه دهٔ سره قوم دَ دهٔ اُوئیل ده آیاجګړه کوئ تاسو ماسره په باره دَ اللّٰه تعالیٰ کښ او یقیناً خودنه ئیے کړے ده ماته په(دلیلونوسره) اونهٔ یریکم دَهغے نه چه شریکان جوړوئ تاسو دَ هغه سره مګر که اوغواړی رب ځما څه شے راکیر کړے دے رب ځما هرشے په علم خپل کښ ایا پس نصیحت نه قبلوئے تاسو(۸۰) اوڅنګه اویریګم دَهغه چانه چه تاسوئے اللّٰه تعالیٰ سره شریکوئ اونه یریږئ تاسو (دَاللّٰه تعالیٰ نه) او یقیناً تاسوشریکان جوړ کړیدی دَ اللّٰه تعالیٰ سره هغه څوك چه نه ئیے دے نازل کړے په هغے سره په تاسو باندے هیڅ دلیل پس کوم یو

[۷۸] ﴿بَازِغَةً﴾ مؤنث ئیے ذکرکړو ځکه چه شمس مؤنث دے۔ **سوال:** هرکله چه شمس مؤنث وؤنو هذا ئیے مذکر ولے ذکرکړو؟ **جواب:** دا مؤنث سماعی دے علامت دَ تانیث پکښ نیشته نوپدیکښ تانیث اوتذکیردواړه جائزدی﴿هٰذَآ اَكْبَرُ﴾ اکبرغټ دے په اعتباردَ رنړا سره اوپه اعتباردَ جسم سره ځکه چه علماؤئیے هیئت په عقلی دلیلونوسره ثابت کړے دے چه نمردَ زمکے نه یوسل شپږشپیته(۱۶۶) چنده غټ دے۔ اودارنګ دالوئیے وؤپه الوهیت کښ په نیزدَمشرکانوباندے﴿يٰقَوْمِ اِنِّيْ بَرِيْٓءٌ﴾ دلته هم دلیل افول دے چه مخکښ ذکرشویدے اوبرائت دَ شرك اودَ مشرکانونه په هغه دلیل باندے بنا اوتفریع ده۔

[۷۹] روستودَ برائت دَ شرك نه ذکردَ توحید دے لکه لااله الااللّٰه کښ اوپدے کښ اظهاردَ عقیدے دَ توحید دے اوعلت دے دَ برائت عن الشرك دپاره ﴿اِنِّيْ وَجَّهْتُ وَجْهِيَ﴾ قرطبی وئیلی دی چه مراد دَ دے نه قَصَدْتُ بعبادتی وتوحیدی دے (قصد مِ کړے دے په خپل عبادت اوتوحید سره) اوذکردَ وجه مراد ترینه ټول بدن اوروح دے ﴿فَطَرَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ﴾ اودا شامل دے ستوروانمراوسپوږمئی ته چه هغه ټول مخلوق دی ﴿حَنِيْفًا﴾ حنف په اصل کښ میلان اواستقامت دواړوته وئیلے شی یعنی اعراض کوؤنکے دَ هرباطل دین نه اوپوخ په دین توحید باندے داسے شربینی ذکرکړی دی ﴿مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ﴾ دا برائت دے دَ جماعت دَ مشرکانونه روستودَ برائت دَ شرك نه۔

[۸۰] معلومه شوه چه ابراهیم علیه السلام دَ دے قوم سره دشرك په ردکښ مناظره کړے وه داسے مناظرے کول جهاد دے ﴿وَحَآجَّهٗ قَوْمُهٗ﴾ دَ هغوی دَ طرف نه صرف مجادله وه حجت ورسره نه وؤمحاجه ئیے ورته په اعتباردَظاهرسره وئیلے ده دَهغوی جګړه په توحیدکښ وه ﴿وَقَدْ هَدٰىنِ﴾ مراد دَ دے نه هغه دلیلونه دی چه مخکښ په ملکوت السمٰوٰت کښ هغے ته اشاره وه ﴿وَلَآ اَخَافُ﴾ داجواب دَ قول دَ هغوی دے چه هغوی وئیلی وؤچه دَ دے معبودانوزمونږنه یره اوکړه هسے نه چه په لیونتوب اومرضونوکښ دے اخته

الْفَرِيْقَيْنِ اَحَقُّ بِالْاَمْنِ ۚ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۸۱﴾ اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَلَمْ يَلْبِسُوْٓا اِيْمَانَهُمْ بِظُلْمٍ اُولٰٓئِكَ
لَهُمُ الْاَمْنُ وَهُمْ مُّهْتَدُوْنَ ﴿۸۲﴾ وَتِلْكَ حُجَّتُنَآ اٰتَيْنٰهَآ اِبْرٰهِيْمَ عَلٰى قَوْمِهٖ ۭ نَرْفَعُ دَرَجٰتٍ مَّنْ نَّشَاۗءُ ۭ
اِنَّ رَبَّكَ حَكِيْمٌ عَلِيْمٌ ﴿۸۳﴾ وَوَهَبْنَا لَهٗٓ اِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ ۭ كُلًّا هَدَيْنَا ۚ وَنُوْحًا هَدَيْنَا مِنْ قَبْلُ وَمِنْ ذُرِّيَّتِهٖ دَاوٗدَ

وقف لازم ۴ ع ۱۲

دَ دواړو ډلو نه زیات حقدار دے دَ بچ کیدلو دَ دعذاب نه که تاسو پوهیږئ(۸۱) هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے اونه ئیے دے ګډ کړے دَ ایمان خپل سره هیڅ شرك دغه کسان دوی دپاره بچ کیدل دی (دَ عذاب نه) او دوی هدایت والا دی (۸۲) اودغه دلیل دَ توحید زمونږ دے ورکړے ؤو مونږ دا ابراهیم(علیه السلام) ته په مقابله دَ قوم دَهغه کښ پورته کؤو مونږ درجے دَ هغه هغه چاچه اوغواړو مونږه یقیناً رب ستا حکمتونو والا دے پوهه دے په هرڅه (۸۳) او اوبخلو مونږ دهٔ ته اسحاق(علیه السلام) او یعقوب(علیه السلام) هر یوته خودنه کړے وه مونږه (دَ توحید) او نوح (علیه السلام) ته خودنه دَ توحید کړے وه مونږ مخکښ دَ دے نه او دَ اولاد نوح(علیه السلام)نه(توحید خودلے وو مونږه) داؤد (علیه السلام) ته

کړی ﴿اِلَّآ اَنْ يَّشَاۗءَ رَبِّيْ﴾ دااستثناء منقطع ده یعنی رب زماچه څه مصیبت اوغواړی نوهغه قادردے اوداجمله ئیے دَ دے دپاره ذکرکړه چه انسان ته دَ هغه په ژوند کښ دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه څه مرض اومصیبت ضرور رسیږی نومشرك خلق دَهغے نسبت خپلومعبودانوته کوی نودَ وهم دَ دفع کولودپاره ئیے دا استثناء اوئیله لکه په سورة اعراف(۸۹) کښ۔

[۸۱] دوی ورته اُوئیل چه دَ دے معبودانو زمونږنه غلے کینه ګنی نودوی به درله ټکره درکړی نوهغه ورته جواب اوکړو او داپه طریقه دَمحاکمے سره دے یعنی تاسودَ قادرذات نه یره نه کوئے نوڅه ستاسو دَ عاجز معبودانونه ولے یره اوکړم ﴿اَشْرَكْتُمْ﴾ سمعانی وئیلی دی چه اشراك دیته وئیلے شی چه غیراللّٰه لره جمع کړے دَ اللّٰه تعالیٰ سره په هغه څیز کښ چه نه وی جائزمګر صرف اللّٰه تعالیٰ لره ﴿مَالَمْ يُنَزِّلْ﴾ دا قید دَ مزید تقبیح دپاره دے یعنی په دے باندے حجت نیشته نوڅه رنګ به نازل کړی او دا دلیل دے چه دَ اثبات دَ داسے مسئلے دپاره دلیل منزله ضروری دے قیاسونه په دے کښ هیڅ حجت نه دے ﴿الْفَرِيْقَيْنِ﴾ مراد دَ دے نه مؤحدین اومشرکان دی ﴿الْاَمْنِ﴾ مراد دَ دے نه امن مطلق دے دَعذاب دَ اللّٰه تعالیٰ نه په دُنیا او اٰخرت کښ، اَمن دلته یے فکرئیے ته نشی وئیلے۔

[۸۲] دا دَ مخکښ ایت جواب دے یا دَ ابراهیم علیه السلام دَ طرف نه یا دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه ﴿بِظُلْمٍ﴾ نه مراد پدے ایت کښ شرك دے لکه حدیث دَ بخاری کښ راغلی دی اوپه سورة لقمان(۱۳) کښ دی۔ دے ایت نه معلومه شوه چه دَ بعض خلقو دَایمان سره شرك ګډوی مثلا اللّٰه تعالیٰ منی، رسول منی، کتاب منی، لیکن ورسره دَ اللّٰه تعالیٰ نه سیوا بل څوك لکه نبی، ولی، وغیره هم حاجت روا، مشکل کشا اختیار مند اوغیب دان پشان دَ اللّٰه تعالیٰ ګنړی نودَ دهٔ ایمان ته اعتبارنیشته بلکه دے مشرك دے لکه په سورة یوسف(۱۰۶) کښ دی۔

[۸۳] دا دَ مخکښ ایت دلیل دے په دے خبره باندے چه دا تیرشوے کلام دَ ابراهیم علیه السلام (دَ قال هذا ربی نه ترمهتدون پورے) داپه طریقه دَ حجت سره په قوم باندے پیش کړے وؤ ﴿اٰتَيْنٰهَآ﴾ په طریقه دَ وحی سره دے۔

وَسُلَيْمٰنَ وَاَيُّوْبَ وَيُوْسُفَ وَمُوْسٰى وَهٰرُوْنَ ؕ وَكَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۸۴﴾ وَزَكَرِيَّا وَيَحْيٰى وَعِيْسٰى وَاِلْيَاسَ ؕ
كُلٌّ مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۸۵﴾ وَاِسْمٰعِيْلَ وَالْيَسَعَ وَيُوْنُسَ وَلُوْطًا ؕ وَكُلًّا فَضَّلْنَا عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴿۸۶﴾ وَمِنْ اٰبَآئِهِمْ وَ
ذُرِّيّٰتِهِمْ وَاِخْوَانِهِمْ ۚ وَاجْتَبَيْنٰهُمْ وَهَدَيْنٰهُمْ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۸۷﴾ ذٰلِكَ هُدَى اللّٰهِ يَهْدِيْ بِهٖ مَنْ

او سلیمان(علیه السلام) ته او ایوب(علیه السلام) ته او یوسف(علیه السلام) ته او موسیٰ(علیه السلام) ته او هارون(علیه السلام) ته او دغسے بدله ورکؤو مونږ خائسته عمل کؤوکو ته(۸٤) او ذکریا(علیه السلام) ته او یحییٰ(علیه السلام) ته او عیسیٰ(علیه السلام) ته او الیاس(علیه السلام) ته دا ټول ؤو ډکاملو نیکانونه (۸۵) او اسماعیل(علیه السلام) ته او یسع(علیه السلام) ته او یونس(علیه السلام) ته اولوط(علیه السلام) ته او دے ټولو ته غوره والے ورکړے ؤو مونږه په خلقو باندے(۸٦) او بعضے د پلارانو د دوی نه او د اولاد د دوی نه او د ورونړو د دوی نه او غوره کړیؤو مونږ دوی او رسولی ؤو مونږ دوی لره نیغے لارے ته (۸۷) دا حقه لار د الله تعالیٰ ده هدایت کوی په دے سره چاله

﴿عَلٰى قَوْمِهٖ﴾ یعنی ډپوهے د ابراهیم علیه السلام دپاره نه دے بلکه استدلال دے په مقابله د قوم کښ ﴿نَرْفَعُ دَرَجٰتٍ مَّنْ نَّشَآءُ﴾ داسے په سورة یوسف کښ هم دی۔ فرق دا دے چه په سورة یوسف کښ علم د تدبیر او سیاست اودفع کول د نصرت دُنیویه سبب د رفع د درجاتودے او پدے سورت کښ علم د حجت اواستدلال اودفع د نصرت اُخرویه سبب د رفع گرځولے شویدے۔

[۸٤] دا د اوولس انبیاء علیهم السلام ذکردے په دے وجه چه توحید د دے ټولوعقیده وه۔ اودوی د دے د تبلیغ دپاره غوره کړے شوی وؤنودا اجماعی اواتفاقی مسئله ده نودا دلیل نقلی دے بیا د دے انبیاء علیهم السلام جدا جدا صفات وؤ ﴿هَدَيْنَا﴾ مراد د دے نه وحی د توحید اوکلکوالے دے په توحید باندے ﴿ذُرِّيَّتِهٖ﴾ دا ضمیرراجع دے نوح علیه السلام ته نه ابراهیم علیه السلام ته ځکه چه یونس اولوط علیهم السلام د اولاد د ابراهیم علیه السلام نه نه وؤ ﴿وَاَيُّوْبَ﴾ په دۀ باندے صرف ابتلاء وه او ﴿يُوْسُفَ﴾ باندے نعمت او بلاء دواړه جمع شوی وؤ ﴿وَكَذٰلِكَ﴾ لکه چه ابراهیم علیه السلام ته رفع د درجاتوملاؤشوه دا رنګ دغه جزا هغه چاته ورکیږی چه احسان (پوخ والے په توحید باندے) کوی په ﴿نَجْزِي﴾ نه مراد نبوت نه دے ځکه چه نبوت په کسب سره نه ملاویږی۔

[۸۵] دا ځلورانبیاء د کمال زهد اوعبادت د وجے نه د صالحینونه شمارشول کمال صلاح کول د ما ینبغی اواجتناب کول د مالا ینبغی نه (شربینی)۔

[۸٦] دا ځلورانبیاء غیرمشهور وؤنوخلقود دوی فضیلت نه پیژندلونوځکه د دوی فضیلت ئے ذکر کړلود دے نه دلیل نیولے شویدے په تفضیل د انبیاؤسره په ملائکوباندے۔

فائده: عیسیٰ علیه السلام په ذریت د نوح علیه السلام یا ابراهیم علیه السلام کښ شمارشواوحال دا چه د هغه پلارنه وو ٔنو معلومه شوه چه اولاد د لونړوهم په اقاربوکښ داخل دی اوتفصیل د اختلاف قرطبی ذکرکړے دے۔

[۸۷] د دے ایت دامطلب نه دے چه د دے ټولوپیغمبرانوپلاران اوځامن او رونړه وؤبلکه چه د چا وؤنوپه هغوی کښ بعض کسانولره دا مقام ورکړے شوځکه چه مِن دپاره د تبعیض دے ﴿وَاجْتَبَيْنٰهُمْ﴾ جبی په اصل کښ جمع کولوته وئیلے شی او مرادترینه خوښول اوغوره کول دی اوغوره ځیزانسان د ځان سره

يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ ؕ وَلَوْ اَشْرَكُوْا لَحَبِطَ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۸۸﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ وَالْحُكْمَ وَالنُّبُوَّةَ ۚ
فَاِنْ يَّكْفُرْ بِهَا هٰٓؤُلَآءِ فَقَدْ وَكَّلْنَا بِهَا قَوْمًا لَّيْسُوْا بِهَا بِكٰفِرِيْنَ ﴿۸۹﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ هَدَى اللّٰهُ فَبِهُدٰىهُمُ
اقْتَدِهْ ؕ قُلْ لَّآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ اَجْرًا ؕ اِنْ هُوَ اِلَّا ذِكْرٰى لِلْعٰلَمِيْنَ ﴿۹۰﴾ وَمَا قَدَرُوا اللّٰهَ حَقَّ قَدْرِهٖٓ اِذْ قَالُوْا مَآ

چه اوغواړی دَ بندګانو دَ هغه نه او که بالفرض شرك کړے وے دوی خامخا برباد شوی به ؤو دَ دوی نه هغه عملونه چه دوی کول (۸۸) داهغه کسان دی چه ورکړی ؤو مونږ دوی ته کتابونه او پوهه دَ دین پیغمبری پس که انکار کوی د دے مسئلے نه داکسان پس یقیناً توفیق ورکړے دے مونږ دَ دے هغه قوم ته چه نه دی دَ دے نه انکار کؤونکی(۸۹) داهغه کسان دی چه خودنه کړے ده الله تعالیٰ دوی ته پس دَلارے دَ دوی تابعداری کوه او وایه نه غواړم ستاسونه پدے باندے څه بدله نه دے دامګر نصیحت دے دپاره دَ خلقو(۹۰) اوقدرنه دے کړے دوی دَ الله تعالیٰ لائق قدر کله چه او وئیل دوی نه دے

راجمع کوی نواجتباء کښ اشاره ده دَ هغوی صفاتوذاتیو لازموته او ﴿هَدَيْنٰهُمْ﴾ کښ اشاره ده علومو دَ نبوت اوصفاتومتعدیوته۔اومعلومه شوه چه صراط مستقیم دَانبیاؤلارته وئیلے شی۔

[۸۸] دے ایت نه معلومه شوه چه په شرك سره دَ نبی عمل برباد کیدشی نودَ بل چا دَ عمل څه حیثیت دے۔ ﴿ذٰلِكَ﴾ کښ اشاره ده هغه هدایت ته چه په هدینا او وهدینا هم کښ ذکردے اواشاره ده چه انبیاء هم په هدایت کښ الله تعالیٰ ته محتاج دی ﴿وَلَوْ اَشْرَكُوْا﴾ په دے کښ ذکرکوی قباحت دَ شان دَ شرك او معلومه شوه چه مخکښ ذکرشوے هدایت په معنیٰ دَ پوخ والی دے په توحید باندے اودارنګ بنیاد دَ هدایت توحید دے۔

[۸۹] په دے کښ تفصیل دَ هدی الله دے دَ ﴿الْكِتٰبَ﴾ نه مراد جنس کتب دی اودا مستلزم دَ دے نه دے چه ټولوته کتابونه ورکړے شوی وی بلکه روستنی ته چه دَ مخکنی کتاب په میراث کښ ورکړی دیته هم اتیناهم شامل دے ﴿وَالْحُكْمَ﴾ الله تعالیٰ هرنبی ته دَکتاب نه علاوه زیاتی وحی هم ورکوی چه هغے ته حکمت اوسنت وئیلے شی ﴿فَاِنْ يَّكْفُرْ بِهَا﴾ اشاره ده چه کوم دین الله تعالیٰ رالیګلے دے نودَ هغے په حفاظت کښ څه خاص خلقوته محتاج نه دے ﴿هٰٓؤُلَآءِ﴾ دَ دے نه مراد موجوده کافران دی اوقوما نه مراد مخکنی انبیاء اوملائك اوانصاراومهاجرین اودَ هرے زمانے مؤحدین دی اودا اقوال قرطبی وغیره ذکرکړی دی۔

[۹۰] دا ایت دلیل دے چه دَ ټولوپیغمبرانودین یودے صرف بعض فروعوکښ فرق وی۔ دارنګ اجرت نه اخستل په دین باندے دَټولوانبیاؤطریقه ده ﴿اُولٰٓئِكَ﴾ دا دلیل دے په عصمت دَانبیاء علیهم السلام دَ ضلال نه اواشاره ده چه هدایت په طریقه دَانبیاء علیهم السلام کښ حصردے ﴿فَبِهُدٰىهُمُ﴾ مراد دَ دے تمام اصول عقائد اواخلاق اوطریقے دَ دعوت دَانبیاء علیهم السلام دی اوفروعوکښ هغه مراد دی چه دَ هغوی په دین پورے خاص نه دی اوپه دے کښ اشاره ده چه دَمخکنوانبیاؤ فضائل اواخلاق زمونږپه نبی ﷺ کښ راجمع دی ﴿اِقْتَدِهْ﴾ اقتداء موافقت دَ روستنی شخص ده دَمخکنی سره په قول اوعمل کښ سره دَ دلیل مستقله نه اواتباع موافقت دے په عمل کښ فقط دَ وجے دَ دلیل دَ مخکنی نه اوتقلید خوبے دلیله په چاپسے تلل دی۔ سوال: امرپه اقتداء سره دلالت کوی چه زمونږنبی ﷺ افضل نه دے؟ جواب: دَ اقتداء چه کومه معنیٰ ذکر

اَنْزَلَ اللّٰهُ عَلٰى بَشَرٍ مِّنْ شَیْءٍ ؕ قُلْ مَنْ اَنْزَلَ الْكِتٰبَ الَّذِیْ جَآءَ بِهٖ مُوْسٰى نُوْرًا وَّهُدًى لِّلنَّاسِ تَجْعَلُوْنَهٗ قَرَاطِیْسَ تُبْدُوْنَهَا وَتُخْفُوْنَ كَثِیْرًا ۚ وَعُلِّمْتُمْ مَّا لَمْ تَعْلَمُوْۤا اَنْتُمْ وَلَاۤ اٰبَآؤُكُمْ ؕ قُلِ اللّٰهُ ۙ ثُمَّ ذَرْهُمْ فِیْ خَوْضِهِمْ یَلْعَبُوْنَ ﴿۹۱﴾ وَهٰذَا كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ مُبٰرَكٌ مُّصَدِّقُ الَّذِیْ بَیْنَ یَدَیْهِ وَلِتُنْذِرَ اُمَّ الْقُرٰى وَمَنْ حَوْلَهَا ؕ وَ

نازل کړے اللّٰه تعالیٰ په هیڅ بنده باندے هیڅ شے او وایه چا نازل کړے دے هغه کتاب چه راوړے دے هغه موسیٰ(علیه السلام) رنړا اوهدایت دپاره دَ خلقو (بنی اسرائیلو) اوګرځو تاسو هغه ټکړے ټکړے بنکاره کوئ تاسو بعضے او پټوئ ډیرے او خودلے شوے دے تاسوته هغه شے چه نه پیژندو تاسو اونه ستاسو پلارانو او وایه اللّٰه تعالیٰ بیا پریږ ده دوی په باطله مشغولا دَ دوی کښ چه لوبے کوی(۹۱) او دا کتاب نازل کړے دے مونږ برکت والا تصدیق کؤونکے دے دَهغه کتابونو چه مخکښ دَ دهٔ نه دی او دے دپاره چه اویروے ته اصل دَکلو(مکه معظمه) اوشوك چه چاپیره دَ دے نه دی او

شوه هغه صرف په روستووالی دلالت کوی هغه په افضلیت دَسابق باندے دلالت نه کوی ﴿قُلْ لَّاۤ اَسْـَٔلُكُمْ﴾ هرکله چه هُداهُم کښ لوئے مقصد طریقه دَ دعوت ده نوپدے دوه جملوکښ دوه ارکان دَ دعوت ذکرکوی اول اخلاص اودویم امانت لکه دَ انبیاؤپه صفت کښ ناصح امین ذکردے ﴿قُلْ لَّاۤ اَسْـَٔلُكُمْ﴾ چه په انبیاء علیهم السلام باندے تبلیغ فرض عین دے نودَ دے وجے نه په هغوی باندے اجرت اخستل په هغے باندے حرام دی اوچه فرض عین نه وی نوپه هغے باندے په اجرت اخستلوکښ اختلاف دے اوداکلمه دَ ټولوانبیاؤپه هدایت کښ ذکر ده ﴿ذِكْرٰى لِلْعٰلَمِیْنَ﴾ مراد دَ دے نه انس اوجن دی ترقیامته پورے۔

[۹۱] دَ دے ایت نه تر(۱۰٤) پورے پنځم باب دے په دے کښ درے زجرونه دی اوترغیب دے قرآن ته اوتخویف اوپنځه عقلی دلیلونه دی﴿وَمَا قَدَرُوا اللّٰهَ﴾ ربط دا دے چه دوی (منکرینو) وئیل چه تهٔ دَ انبیاؤاقتداء کوے نودَ مشرانو(مشرکانو) او کتابیانواقتداء ولے نه کوے؟ حاصل جواب دا دے چه دوی دَ اللّٰه تعالیٰ قدرنه کوی نودوی لائق دَ اقتداء نه دی اودا ایت زورنه ده په انکاردَکتاب دَاللّٰه تعالیٰ اودا دَاللّٰه تعالیٰ بے قدری اوبے عزتی ده اوانکار دے دَ رحمت دَ اللّٰه تعالیٰ نه چه هغه انزال دَکتاب اودَبعثت دَ رسول دے۔ مَاقَدَرُوا په معنیٰ دَ معرفت اوپه تعظیم اوصفت کولودے﴿اِذْ قَالُوْا﴾ دا تفصیل دَ بے قدرئ دے ﴿مَنْ اَنْزَلَ الْكِتٰبَ﴾ دوی سلب کلی کړے وونودَ هغے جواب په ایجاب جزئي سره کافی دے اودا الزامی جواب دے اونقض دے دَقول دَ دوی ﴿نُوْرًا﴾ دلیلونه دی ﴿هُدًى﴾ حکمتونه دی﴿تُبْدُوْنَهَا﴾کوم چه دَ دوی دَ طبیعت برابروی نوهغه به ئے بنکاره کول اوکوم چه دَ دوی دَ خواهش نه خلاف وؤنوهغه به ئے پټول۔ اودے ایت نه معلومه شوه چه کتاب دَ اللّٰه تعالیٰ بے ضرورته ټکړے ټکړے کول منع دی داسے قرطبی لیکلی دی﴿وَعُلِّمْتُمْ﴾ اشاره ده چه په کتاب دَ اللّٰه تعالیٰ سره هغه علمونه حاصلیږی چه مخلوق دَهغے علم نه لری اودا عطف دے په نُورًا باندے﴿اللّٰهُ﴾ دا مفرد مرادنه دے بلکه فعل پټ ورسره دے یعنی انزل اللّٰه، ابن کثیردلته ردکړیدے په ذکرمفرد والوباندے﴿ثُمَّ ذَرْهُمْ﴾ دا عطف دے په قل باندے زجردے منکرینوته روستو دَالزام نه په هغوی باندے﴿یَلْعَبُوْنَ﴾دا جواب امرنه دے بلکه حال دے یا استیناف دے مراد دَ دے نه استهزاء اومسخرے کول دی۔

الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ وَهُمْ عَلٰى صَلَاتِهِمْ يُحَافِظُوْنَ ﴿۹۲﴾ وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا اَوْ
قَالَ اُوْحِيَ اِلَيَّ وَلَمْ يُوْحَ اِلَيْهِ شَيْءٌ وَّمَنْ قَالَ سَاُنْزِلُ مِثْلَ مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ ؕ وَلَوْ تَرٰٓى اِذِ الظّٰلِمُوْنَ فِيْ غَمَرٰتِ
الْمَوْتِ وَالْمَلٰٓئِكَةُ بَاسِطُوْٓا اَيْدِيْهِمْ ۚ اَخْرِجُوْٓا اَنْفُسَكُمْ ؕ اَلْيَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ الْهُوْنِ بِمَا كُنْتُمْ تَقُوْلُوْنَ عَلَى
اللّٰهِ غَيْرَ الْحَقِّ وَكُنْتُمْ عَنْ اٰيٰتِهٖ تَسْتَكْبِرُوْنَ ﴿۹۳﴾ وَلَقَدْ جِئْتُمُوْنَا فُرَادٰى كَمَا خَلَقْنٰكُمْ اَوَّلَ مَرَّةٍ وَّتَرَكْتُمْ مَّا

هغه کسان چه ایمان لری په اخرت باندے ایمان لری په دے کتاب باندے او دوی په خپلو مونځونو باندے ساتنه کوی(۹۲) او څوك ډیر لوئے ظالم دے دَهغه چانه چه جوړوی په الله باندے دروغ یاوائی وحی کړے شویده ماته او وحی نه وی کړے شوی هغه ته هیڅ اوهغه څوك چه وائی څه به راولیږم پشان دَ هغے چه رالیږلے دے الله تعالیٰ او که اووینے ته هغه وخت چه ظالمان به په سختو دَ مرګ کښ وی او ملائك به اوږد ژونکی وی لاسونه خپل (وائی به) رااو باسئے ساګا نے خپلے نن بدله درکیدے شی تاسوته دَ عذاب دَذلت په سبب دَهغه چه جوړولے تاسوپه الله تعالیٰ باندے ناحق خبرے (دَشرك اوبدعت) او وئے تاسوچه دَایاتونو دَهغه نه مولوئی کوله(یعنی دَ دلیلونو دَتوحید نه)(۹۳) او یقیناً راغلئے تاسو مونږ ته یوائے لکه چه پیداکړی وئ مونږ تاسو اول ځل او پریخودو تاسوهغه(نعمتونه)

[۹۲] دا ترغیب دے قرآن ته په بیان دَ پنځه صفاتوسره روستودَ ذکرَ تورات نه یعنی چه هغه کتاب منزله تاسومنئے نودا قرآن هم منزل اومنئے ﴿مُبٰرَكٌ﴾ نیشاپوری وئیلی دی چه خیرئیے ډیردے اونفع ئیے ډیره ده اوسبب دے دَ بښه کارونواومنع کوونکے دے منکراتونه اوطریقه دَ الله تعالیٰ جاری ده چه څوك دَ قرآن دَ علم تفتیش کوی اوپه هغے باندے تمسك کوی عزت به حاصل کړی په دُنیاکښ اوسعادت به حاصل کړی په اخرت کښ اودَ دے تجربه شویده اوصحیح ثابت شویده ﴿مُصَدِّقُ﴾ ځکه چه مشتمل دے په توحید اوپاکئ دَ الله تعالیٰ دَ شرك نه اوبشارت اوانذارباندے اودغه مضمون دے دَ مخکنو کتب الٰهیو ﴿اُمَّ الْقُرٰى﴾ شربینی وئیلی دی چه دا قبله دَ ټولو کلوده اومجمع دَ هغوی ده اواعظم شان والا ده یا دا چه ټوله زمکه دَ دے غوړیدلے ده یا اول بیت دے دَ خلقودَ عبادت دپاره ﴿وَالَّذِيْنَ﴾ دَ دے وجه دا ده چه څوك ایمان په اخرت باندے لری نودَ عاقبت فکرکوی او دَ هغے وجے نه ایمان په نبی اوپه قرآن لری ﴿وَهُمْ عَلٰى صَلَاتِهِمْ﴾ دا ئیے خاص ذکرکړو ځکه چه دا علامت دَ ایمان دے۔

[۹۳] روستودَ صدق دَ قرآن نه زورنه په درے قسمه ظلمونوسره ده چه هغه دَ مخالفت دَ قرآن سره تعلق لری اول ﴿افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا﴾ په تحریف کولوسره لفظا اومعنی اوپه نسبت کولودَ شرك الله تعالیٰ ته۔ دویم سرهٔ دَ افتراء نه دعویٰ دَ نبوت کاذبه کوی ﴿الظّٰلِمُوْنَ﴾ دا شامل دے دغه درے قسمه ظالمانوته اوقرطبی وئیلی دی چه داخل دی په دے کښ هغه څوك (صوفیاء) چه اعراض کوی دَ قرآن اوسنت اودَ طریقے دَ سلف صالحین نه اودعویٰ کوی دَ علم دَ احکانوپه صفایئے دَ زړه خپل سره اودلیل نیسی په علم دَ خضر علیه السلام سره نودا زندقه اوکفر دے ﴿غَمَرٰتِ الْمَوْتِ﴾ حال دَ ځنکدن دے مخکښ دَ حال دَ برزخ اوقیامت نه ﴿بَاسِطُوْٓا اَيْدِيْهِمْ﴾ لاسونه به ئیے اوږده کړی وی دَهغوی دَ ارواحوقبض کولودپاره او ﴿اَخْرِجُوْٓا﴾ په طریقه دَ زورنے سره دے چه شاښ خپل ارواح را اوباسئ اوراویستلے به ئیے نشی۔ بله معنیٰ

خَوَّلْنٰكُمْ وَرَآءَ ظُهُوْرِكُمْ ۚ وَمَا نَرٰى مَعَكُمْ شُفَعَآءَكُمُ الَّذِيْنَ زَعَمْتُمْ اَنَّهُمْ فِيْكُمْ شُرَكٰٓؤُا ۭ لَقَدْ تَّقَطَّعَ بَيْنَكُمْ وَ
ضَلَّ عَنْكُمْ مَّا كُنْتُمْ تَزْعُمُوْنَ ﴿۹۴﴾ اِنَّ اللّٰهَ فَالِقُ الْحَبِّ وَالنَّوٰى ۭ يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَمُخْرِجُ الْمَيِّتِ مِنَ
الْحَيِّ ۭ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ فَاَنّٰى تُؤْفَكُوْنَ ﴿۹۵﴾ فَالِقُ الْاِصْبَاحِ ۚ وَجَعَلَ الَّيْلَ سَكَنًا وَّالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ حُسْبَانًا ۭ ذٰلِكَ

چه درکړی دی مونږ تاسوته روستو دَ شاکانو ستاسونه اونه وینو مونږ تاسو سره سفارشیان ستاسو هغه چه تاسو خیال کړو چه دوی ستاسوپه مال اولاد کښ برخے والا دی یقیناً پریکړیشو تعلق ستاسو او ورك شو ستاسونه هغه چه تاسو گمان کړو (۹٤) یقیناً اللّٰه تعالیٰ څیرے کړونکے دَ دانو او دَاډو کودے رااوباسی ژوندے دَ مړنه او راویستونکے دے مړ دَ ژوندی نه دا(صفت والا) اللّٰه تعالیٰ دے پس څنګه اوړیدے شئے تاسو(۹۵) څیرے کړونکے دَ صبادے اوجوړه کړے ده شپه دَ ارام دَپاره اونمر او سپوږمئی دَپاره دَحساب دا

داده چه اوږده کړی به ئے وی لاسونه دپاره دَ وهلودَ هغوی ﴿اَخْرِجُوْٓا﴾ چه بچ کړئے ځانونه خپل دَ عذاب نه ﴿اَلْيَوْمَ﴾ دَ دے نه مراد عذاب برزخی دے یا عذاب دَ محشردے ﴿غَيْرَ الْحَقِّ﴾ اول دواړه قسمونوته راجع دے ﴿وَكُنْتُمْ عَنْ اٰيٰتِهٖ﴾ دا دریم قسم ته راجع دے ﴿اَلْهُوْنِ﴾ هرکله چه دغه درے واړه دعوے دَ تکبر دَوجے نه دی نو سزائیے په سخت اهانت سره ده۔

[۹٤] په دے کښ ذکردے دَ زوال دَ اسبابودَ استکبارچه هغه درے دی اول ډلے تابعداران مریدان وغیره۔ دویم مالونه جائیداد صفتونه وغیره۔ دریم پیران متبوعین مددګاران ﴿وَلَقَدْ جِئْتُمُوْنَا﴾ دا په وخت دَ برزخ کښ به وئیلے شی یا دا یره اُخروی ده په بیان دَپښځه حالاتو ﴿فُرَادٰى﴾ بغیرد مال او اولاد اونوکرانو تابعدارنو مریدانو شاګردانو وغیره نه ﴿مَاخَوَّلْنٰكُمْ﴾ خول هغه نعمتونه چه اللّٰه تعالیٰ انسان ته ورکړی دی په دُنیا کښ مریان اومالونه جائیداد بادشاهی، سلطنت اوکارخانے وغیره ﴿وَرَآءَ ظُهُوْرِكُمْ﴾ یعنی پشان دَ هغه څیز چه شاته پاتے شی نودَ هغے نه انتفاع نشی اخستلے کیدلے بلکه چه شاته ګوری نوځت ئے کوږشی ﴿شُفَعَآءَكُمْ﴾ هغه معبودان بزرګان پیران وغیره چه دوی دَ هغوی نه حاجتونه غوختل په دے عقیده چه دوی دَ اللّٰه تعالیٰ سره برخه لری په صفتونواوعبادتونوکښ ﴿فِيْكُمْ﴾ یعنی ستاسوپه مالونو او اولادکښ دَ هغوی نذرو نیاز وؤ۔ اودے ایت کښ رد دے په شفاعت شرکیه باندے دَ نیکانوپه باره کښ ﴿بَيْنَكُمْ﴾ مراد دَ دے نه تعلق دَ محبت دَبزرګانودے په محبت شرکیه سره یعنی تعلق دَ پیرئے مریدئے به ختم شی اودا خلاف دے دَ زعم دَ مشرکانونه ﴿بَيْنَكُمْ﴾ بین دَ اضدادونه دے فصل او وصل دواړو ته وئیلے شی ﴿وَضَلَّ﴾ دا ترقی ده دَ ما قبل نه یعنی که بالفرض تقطع اونشی نوهم مقصد دَ دوی برباد دے۔ ضَلَّ په معنیٰ دَ روکیدلو او برباد کیدلودے۔

[۹۵] دا دلیل عقلی دے په توحید اوپه اثبات دَ بعث باندے ﴿اَلْحَبِّ﴾ دانے دَ غلے اونویٰ دَ میوو دپاره وی۔ ﴿فَالِقُ﴾ نه مراد دا چه هغه زمکه سیرے کړی (اوچوی) نوتیغ ترینه را اوباسی یاروستودَ پیدائیش دَ دانے اواډوکی نه دَ هغے په مینځ کښ چود جوړوؤنکے دے ﴿يُخْرِجُ﴾ دا تفسیردَ ماقبل دے دَ دے وجے نه عطف ئے نه دے کړے ځکه چه مراد دَ حی اومیت نه تازه اوشنه بوټی دَ اوچو دانونه پیداکول اوپه عکس

تَقْدِيْرُ الْعَزِيْزِ الْعَلِيْمِ ﴿۹۶﴾ وَهُوَ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ النُّجُوْمَ لِتَهْتَدُوْا بِهَا فِيْ ظُلُمٰتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ ۭ قَدْ فَصَّلْنَا الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ﴿۹۷﴾ وَهُوَ الَّذِيْٓ اَنْشَاَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ فَمُسْتَقَرٌّ وَّمُسْتَوْدَعٌ ۭ قَدْ فَصَّلْنَا الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّفْقَهُوْنَ ﴿۹۸﴾ وَهُوَ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَاۗءِ مَاۗءً ۚ فَاَخْرَجْنَا بِهٖ نَبَاتَ كُلِّ شَيْءٍ فَاَخْرَجْنَا مِنْهُ خَضِرًا نُّخْرِجُ مِنْهُ

اندازه دَ زورآورذات ده چه پوهه دے په هرشه باندے (۹۶) اوخاص اللّٰه تعالیٰ هغه ذات دے چه پیدا کړیدی تاسو لره ستوری چه لار معلوموئ په هغے سره په تیرو دَ اوچه او دَ سمندر کښ یقیناً په تفصیل بیان کړی دی مونږ دلیلونه هغه قوم لره چه پوهیږی (۹۷) اوخاص اللّٰه تعالیٰ هغه ذات دے چه پیدا کړی یئ تاسو دَیو نفس نه پس تاسوله ځائے دَآرام اوځائے دَ سپارنے دے یقیناً تفصیلاً بیان کړی دی مونږ دلیلونه هغه قوم لره چه څهٔ پوهیږی(۹۸) اوخاص اللّٰه تعالیٰ هغه ذات دے چه رااورولی ئے دی دَ طرف دَ اسمانه اوبه پس راویستلی دی مونږ په دے سره بوټی دَهر قسم پس رااویستلے دے مونږ دَ دے نه شینکے رااوباسو دَهغے نه

سره۔ عالم دَ جاهل نه اوپه عکس سره۔ مؤحد دَ مشرك نه اوپه عکس سره۔ اوژوندے انسان اوحیوان دَ نطفے نه یا دَ اکئی نه اوپه عکس سره داټول په دیکښ داخل دی ﴿وَمُخْرِجُ﴾ دا عطف دے فالق باندے ځکه چه یخرج الحی آه تفسیروؤدَ فالق اومخرج المیت تفسیردَ فالق ندے دَ دے وجے نه ئے په اسم فاعل سره ذکرکړو ﴿ذٰلِكُمُ اللّٰهُ﴾ دا نتیجه دَ دلیل ده یعنی دا تصرف کوؤنکے طبیعت اودَهَرْ (زمانه) اوماده او ولی اوبزرګ نه دے بلکه اللّٰه تعالیٰ دے۔

[۹۶] مخکښ دلیل اواحوال دَ زمکے وؤ اوس دلیل په احوال سماویه سره ذکرکوی ﴿فَالِقُ الْاِصْبَاحِ﴾ څیری کوونکے دَشپے دے په صبا ښکاره کولوسره یعنی فالق ظلمة اللیل بالاصباح ﴿وَجَعَلَ﴾ هرکله چه مخکښ اسم فاعل کښ معنیٰ فعلی مرادوه نوصحیح دے په هغه باندے عطف دَ فعل ﴿سَكَنًا﴾ وقت السکون ﴿حُسْبَانًا﴾ یعنی ګرځی دوی په حساب مقرر سره یا دپاره دَ حساب دَ ورځو او میاشتو او کلونو یا په معنیٰ دَ ویشتونکے دے۔

[۹۷] دا بل عقلی دلیل دے اودَ شمس وقمرنه ئے جدا ذکرکړوځکه دَهغے اودَ دے په فائدوکښ ډیرفرق دے او ﴿لِتَهْتَدُوْا﴾ دائے یوه فائده ذکرکړیده اونورے دوه فائدے هم شته لکه په سورة ملك(۵) کښ زینت دَاسمان اورجم دَ شیطانانو ﴿فَصَّلْنَا﴾ په دے کښ معنیٰ دَتفصیل اودَ وضاحت اودَ جدا جدا بیان کولو ده ﴿يَعْلَمُوْنَ﴾ یعنی چه علم لری دَ طریقے دَ استدلال نیولو۔

[۹۸] دا بل دلیل عقلی انفسی دی ﴿فَمُسْتَقَرٌّ﴾ (۱) صلب دَپلار (۲) یا دَ ورځے ګرځیدل (۳) یا دُنیوی ژوند ﴿مُسْتَوْدَعٌ﴾ (۱) دَ مور رحم (۲)یا دَشپے دَ آرام ځائے (۳) یا محل دَ دهٔ په برزخ کښ اودا الفاظ دے ټولو معانوته شامل دی۔ اودا ډونګے علم غواړی ځکه ﴿يَفْقَهُوْنَ﴾ ئے اوفرمائیل ځکه چه انشاء دَ ټولوانسانانودَ یوپلارنه ده چه ادم دے اواحوال دَ استقرار اواستیداع معلومول علم دقیق غواړی چه هغے ته فقه وئیلے شی۔

حَبًّا مُّتَرَاكِبًا ۚ وَمِنَ النَّخْلِ مِنْ طَلْعِهَا قِنْوَانٌ دَانِيَةٌ وَّجَنّٰتٍ مِّنْ اَعْنَابٍ وَّالزَّيْتُوْنَ وَالرُّمَّانَ مُشْتَبِهًا وَّغَيْرَ
مُتَشَابِهٍ ۭ اُنْظُرُوْٓا اِلٰى ثَمَرِهٖٓ اِذَآ اَثْمَرَ وَيَنْعِهٖ ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكُمْ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿٩٩﴾ وَجَعَلُوْا لِلّٰهِ شُرَكَاۗءَ
الْجِنَّ وَخَلَقَهُمْ وَخَرَقُوْا لَهٗ بَنِيْنَ وَبَنٰتٍۢ بِغَيْرِ عِلْمٍ ۭ سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا يَصِفُوْنَ ﴿١٠٠﴾ بَدِيْعُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ ع ١٨
اَنّٰى يَكُوْنُ لَهٗ وَلَدٌ وَّلَمْ تَكُنْ لَّهٗ صَاحِبَةٌ ۭ وَخَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ ۚ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿١٠١﴾ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ ۚ

دانے لاندے باندے او دَکجورو نه؛ دَکسورو دَ هغے نه غنچکونه نیزدے او باغونه دَ انګورو او خونه او انار چه یوشان دی (په پانړه کښ) اونهٔ دی یوشان(په میوه کښ) او ګورئے میوے دَ هغے ته کله چه میوه دارشی اوپخلی دَهغے ته یقیناً په دے کښ ډیر دلیلونه دی هغه قوم لره چه ایمان لری(۹۹) او ګنړی دوی اللّٰه تعالیٰ لره شریکان پیریان اوپیدا کړی دی اللّٰه تعالیٰ دوی اوجوړوی (په دروغه) اللّٰه تعالیٰ لره ځامن اولونړه بغیر دَ پوهے نه پاك دے اللّٰه تعالیٰ اولوئے دے دَ هغے نه چه دوی ئے بیانوی (په صفت دَ هغه کښ)(۱۰۰) نا اشناپیدا کوونکے دَ آسمانونو اودَ زمکے دے څرنګه کیدے شی هغه لره اولاد اونیشته هغه لره ښځه اوپیدا کړیدے هرشے اوهغه په هر څیز باندے پوهه دے (۱۰۱) دا صفتونو والا اللّٰه دے ستاسو رب دے

[۹۹] دا بل دلیل عقلی دے دیته دلیل وسطی وئیلے شی په دے کښ پنځه څیزونه دَ هیئت دَ انسان دپاره ذکر دی(۱) حب دپاره دَ غذا دی (۲) نخل دپاره دَ غِذا اوتفکه دواړودی (۳) اعناب دپاره دَ تفکه اودَ مشروباتو حلالو(٤) زیتون دپاره دَتیلو(٥) رومان دپاره دَ دوائیے دا دَ تربیت اصول دی ﴿مِنَ السَّمَآءِ﴾ مراد دَ سماء نه وریځ ده یا سماء پخپله معنیٰ دے ﴿مُتَرَاكِبًا﴾ اودَ دے نه وګی دَ غنمو وربشو جوارو وغیره مراد دی۔ ﴿مِنْ طَلْعِهَا﴾ طلع اول هغه څیزدَ میوے دَکهجورے نه راښکاره شی هغے ته کفریٰ هم وئیلے شی ﴿دَانِيَةٌ﴾ یوبل ته نزدے دی یا راغستونکوته نزدے دی ﴿مُشْتَبِهًا﴾ زیتون او رمان په پانړوکښ یو شان دی چه په نظرکوونکی باندے اشتباه راولی اوپه میوه کښ مشابه نه دی ﴿لَاٰيٰتٍ﴾ دلیلونه دَ توحید اودَ بعث بعد الموت دی ﴿يُّؤْمِنُوْنَ﴾ مراد دَ دے نه اثابت کوونکی دی یا ایمان لرونکی په خالقیت دَ اللّٰه تعالیٰ باندے۔

[۱۰۰] دا زورنه ده هغه چاته چه پیران او اولیاء اوملائك دَ اللّٰه تعالیٰ سره شریك جوړوی۔ داعطف دے په پټ فعل باندے یعنی اقروا اللّٰه بما تقدم ذکره وجعلوا اه (اقرارکوی په مخکښ کارونودَ اللّٰه تعالیٰ دپاره لیکن شرك ورسره کوی اوپه دے کښ رد دے په مشرکین بالجن اوبالانس اوبالملائکه باندے ﴿شُرَكَاءَ﴾ دا شرك دَ پیریانوپه ډیروطریقوسره دے قول دَ زنادقو دا دے چه شیطان خالق دَ شردے اودَ اللّٰه تعالیٰ رورډے اوقول دَ حائطیه معتزله دا دے چه اللّٰه تعالیٰ اول ابلیس پیداکړونوبیائے هغه ته تدبیرد عالم اوسپارلواوقول دَ جن په سورة جن کښ دلیل دے په شرك بالجن باندے ﴿وَخَرَقُوْا﴾ په معنیٰ دَ دروغو وئیلودے او دا تعبیرد دے دپاره ذکردے چه پیدائیش دَ ځامنواولونړوسیرے کیدل اوتجزّی غواړی۔

[۱۰۱] دا علت دَ سبحانه دپاره په بیان دَکلماتودَ توحید سره، پدے کښ پنځه کلمات دَ توحید دی ﴿بَدِيْعُ﴾ اشاره ده چه په پیدائش دَ اسمانونواو زمکوکښ مخکښ مثال ته محتاج نه دے نوشریك اوولدته حاجت نه لری اوپدے ایت کښ پنځه واړه جملے دپاره دَ رد دَ عقیدے دَ ولدیت دی ﴿وَلَمْ تَكُنْ لَّهٗ صَاحِبَةٌ﴾ په دے کښ اشاره ده چه کوموخلقواللّٰه تعالیٰ ته دَ ولد نسبت کړے دے هغوی اللّٰه تعالیٰ دپاره دَ

لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ فَاعْبُدُوْهُ ۚ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ وَّكِيْلٌ ﴿١٠٢﴾ لَا تُدْرِكُهُ الْاَبْصَارُ ۫ وَهُوَ يُدْرِكُ
الْاَبْصَارَ ۚ وَهُوَ اللَّطِيْفُ الْخَبِيْرُ ﴿١٠٣﴾ قَدْ جَآءَكُمْ بَصَآئِرُ مِنْ رَّبِّكُمْ ۚ فَمَنْ اَبْصَرَ فَلِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ عَمِيَ فَعَلَيْهَا ؕ وَمَآ

نیشته واکدار سیوا دَهغه نه پیدا کړونکے دَ هر څیز دے پس بندګی خاص کړئے هغه لره اوهغه په هر څیز باندے ذمه وار دے (۱۰۲) نه شی راګیرولے هغه لره نظرونه اوهغه راګیروی نظرونه اوهغه باریك څیزونه لیدونکے دے خبر دار دے (۱۰۳) یقیناً راغلی دی تاسوته دلیلونه دَ پوهے دَ طرف دَ رب ستاسونه پس چاچه پوهه حاصل کړه پس دَ دهٔ فائده ده اوځوك چه ړوند شو(دَ دے دلیلونونه) پس وبال به په هغه باندے وی او

زوجیت عقیده نه لرله ﴿كُلِّ شَيْءٍ﴾ او ولد دَ خالق خو مخلوق نشی کیدے بلکه دواړو کښ مجانست شرط دے اومراد دَکل شیء نه هغه دی چه دَشان دَ هغے نه مخلوقیت وی نوذات اوصفات اوکلام دَ اللّٰه تعالیٰ په دے کښ داخل نه دے ﴿وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ﴾ یعنی علم بکل شیء صفت خاصه دَ اللّٰه تعالیٰ دے اوکه ولد ئیے وے نو لازم ده چه هغه به ورسره په دے صفت کښ شریك وے دَوجے دَ مجانست نه۔

[۱۰۲] په دے ایت کښ هم پنځه کلمات دَ توحید دی اودا نتیجه ده دَ مخکښ دلیلونواودَکلماتودَ توحید اوپه دے ایت کښ اثبات دَ توحید دَ ربوبیت اوالوهیت اودَ خالقیت اودَ تصرف دے ﴿خَالِقُ﴾ مخکښ ایت کښ مقصد علت ذکرکول وؤاوهغه په صفت فعلیه (خلق) سره مناسب دے اوپه دے ایت کښ مقصد تفریع اونتیجه ذکرکول دی اوهغه په طریقه دَاسمیت سره مناسب ده (چه خالق) دے۔

[۱۰۳] دے ایت کښ هم څلورصفات دَ اللّٰه تعالیٰ دی دپاره دَ توحید۔ اودے ایت نه دانه ده معلومه چه لیدل دَ اللّٰه تعالیٰ امکان نه لری لکه چه دا دَ معتزلؤمسلك دے اوتفصیل دَ دے دا دے چه رویت (دیدن) دَ اللّٰه تعالیٰ یوپه دُنیاکښ دے دویم په اخرت کښ دے په دُنیاکښ دَ دے په باره کښ اختلاف دے په مینځ دَ اهل حق کښ چه ممکن دے اوکه نه دے؟ دَ اکثراهل علموپه نیزباندے ممکن دے په دلیل دَ قصے دَ موسیٰ علیه السلام چه طلب ئیے دَ رویت دَ اللّٰه تعالیٰ کړے وؤاوځوك چه ممکن وائي نو بیا اختلاف دے چه ایا واقع دے دپاره دَ نبی ﷺ په شپه دَ معراج کښ اوکه واقع نه دے نودَعائشه اوابن مسعود اوابو هریرة رضی اللّٰه عنهم مسلك دادے چه دغه رویت واقع نه دے اوکوم چه په سورة نجم کښ ذکردے هغه رویت دَ نبی ﷺ دے جبرائیل لره اودلیل دَ هغوی پدے ایت سره دَ عائشه رضی اللّٰه عنها نه روایت کړے شوے دے اودَ ابن عباس اوانس اوعکرمه، ربیع حسن بصری رضی اللّٰه عنهم وغیره نه نقل دے چه نبی ﷺ په شپه دَ معراج اللّٰه تعالیٰ لره په خپلوسترګو باندے لیدلے دے اوهرچه مسئله دَ رویت دَ اللّٰه تعالیٰ ده په اخرت کښ مؤمنانودپاره نودا په قرآن اوحدیث اوتواتراواجماع سره ثابت دے اومعتزله، مرجهٔ، جهمیه اونورے باطلے ډلے وائي چه دغه رویت هم ممکن او واقع نه دے هغوی دَ دے ایت نه دلیل نیولے۔ دَ هغے دَ اهل سنت دَ طرف نه جوابونه دا دی۔ اول جواب دا دے چه ادراك په معنیٰ دَ احاطه کولوسره دے لکه په سورة یونس(۹۰) کښ دی اونفی دَ احاطے سره نفی دَ رویت نه راځی ځکه چه په نفی دَ خاص سره نفی دَ عام نه راځی۔ دا ابن کثیراوډیرومفسرینواهل سنت والوذکرکړے دے۔ دویم جواب: الابصارنه مراد ټول نظرونه دی یعنی دَ

اَنَا عَلَيْكُمْ بِحَفِيْظٍ ﴿١٠٤﴾ وَكَذٰلِكَ نُصَرِّفُ الْاٰيٰتِ وَلِيَقُوْلُوْا دَرَسْتَ وَلِنُبَيِّنَهٗ لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ﴿١٠٥﴾ اِتَّبِعْ مَآ اُوْحِيَ اِلَيْكَ
مِنْ رَّبِّكَ ۚ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ وَاَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿١٠٦﴾ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ مَآ اَشْرَكُوْا ۭ وَمَا جَعَلْنٰكَ عَلَيْهِمْ حَفِيْظًا ۚ

څه نه یم په تاسو باندے ساتونکے(١٠٤) اودغسے قسم قسم بیانوو مونږه آیتونه (دَ توحید دپاره دَ دے چه پوهه شی دوی) او دوی وائی تالوستلے دے(دَ فلانی نه) او دپاره دَ دے چه بیان کړو داهغه قوم ته چه پوهیږی(١٠٥) ته تابع اوسه دَ هغه څه چه وحی کړے شوے ده تاته دَ طرف دَ رب ستانه نیشته حق دار دَ بندګئ سیوا دَ هغه نه اومخ اړوه دَ مشرکانو دَ پلے نه (١٠٦) اوکه غوختے وے اللّٰه تعالیٰ نو دوی به شرك نهٔ وے کړے اونه ئے مقرر کړے مونږه تهٔ په دوی باندے څوکیدار

ټولوخلقونظرونوسره اللّٰه تعالیٰ نه لیدلے کیږی اودَ دے نه تخصیص دَ مؤمنانوکړے شویدے په صحیح نصوصوسره ﴿وَهُوَ يُدْرِكُ الْاَبْصَارَ﴾ دَ ابصاروذکردَ وجے دَ تجانس دَکلام نه شویدے ځکه چه اللّٰه تعالیٰ دَ هرځیزادراك کوی ﴿اللَّطِيْفُ﴾ نرمی کوونکے دے دَ بندګانوسره راویستونکے دے دَنری ځیزونو اودَ هغے حقیقتونه ښکاره کوونکے دے۔

[١٠٤] دا ترغیب دے قرآن ته اوذکردَ شان دَ نبی ﷺ دے۔ اودا ایت دلیل دے چه پیغمبردَ اُمت ساتونکے اوبچ کوونکے دَ مصیبتونونه ندے ځکه چه ﴿بِحَفِيْظٍ﴾ یومعنیٰ ده بچ کوونکے دَ هلاکت اوعذاب نه بله معنیٰ راکیر وونکے دَ عملونوپه علم اوپه قدرت کښ (ابن کثیر)۔

[١٠٥] دَ دے ایت نه تر(١١٧) پورے شپږم باب دے په دے کښ دوه طریقے دَ عقباتودَ تبلیغ دی اودرے اداب دَ تبلیغ او زورنے اوترغیب دے فیصله کولوته په قرآن باندے او رد دے په دلیل دَجاهلانوباندے۔ په دے ایت(١٠٥)کښ دریمه عقبه دَ تبلیغ داسے ده چه بیان دَ توحید هر وخت کیږی نومخالف خلق بد نامی لګول شروع کړی کله وائی دے دَ فلانی وهابی شاګرد دے یا دهٔ کښ دَ مرزائیت پرویزئیت اثرشوے دے نودَ دے اعتراضونومقابله کښ بیان دَ توحید پکاردے اودَ دے مشرکانودَ بدنامو لګولوپرواه نه ده پکاراودَ دوی معبودانوته کنځل نه دی پکار﴿وَكَذٰلِكَ﴾ لکه چه مخکښ مونږتصریف دَ ایاتونوکړے نوداسے اینده به هم کوؤ﴿نُصَرِّفُ﴾ یومضمون چه په قسم قسم تعبیرونو سره ذکرشی نوهغے ته تصریف وئیلے شی نوقرآن کریم مسئله دَ توحید په مختلف عنواناتواودلیلونواوزجرونو وغیره سره ذکر کوی۔ ﴿وَلِيَقُوْلُوْا﴾ دَ دے معطوف علیه پټ دے لتقوم الحجة علیهم (دپاره دَ دے چه حجت په دوی باندے قائم شی) ﴿دَرَسْتَ﴾ په دے کښ قرطبی اُوه[7] قراء تونه ذکرکړی دی په دے قرائت باندے په معنیٰ دَ تعلّمت دے لکه چه سورة نحل (١٠٣) اوحج (٤)کښ دی یعنی دوی دَ دے دَ نقل کولو نسبت یوبد نام سړی ته کوی یا درست په معنیٰ دَ محوه کولودَ زوړدین دے۔

[١٠٦] دا بیان دَ دوؤ اداوبدے اودَ﴿مَآ اُوْحِيَ اِلَيْكَ﴾ خلاصه دا ده چه لَا اِلٰهَ اِلَّاهُوَ﴿اِتَّبِعْ﴾ مراد دَ دینه بیان کول همیشه اوعمل کول په وحی باندے دی﴿لَآ اِلٰهَ اِلَّاهُوَ﴾ دا علت دے دَ اتبع یا حال موکده دے دَ من ربك یا بدل دے دَ ما اوحی دپاره ﴿وَاَعْرِضْ﴾مراد دَ اعراض نه دَهغوی دَ وسوسونه او مجلسونو او دوستانے نه بچ کیدل اودَهغوی دَمخالفت پرواه نه کول دی۔

وَمَآ اَنْتَ عَلَيْهِمْ بِوَكِيْلٍ ﴿۱۰۷﴾ وَلَا تَسُبُّوا الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ فَيَسُبُّوا اللّٰهَ عَدْوًۢا بِغَيْرِ عِلْمٍ ؕ كَذٰلِكَ
زَيَّنَّا لِكُلِّ اُمَّةٍ عَمَلَهُمْ ۪ ثُمَّ اِلٰى رَبِّهِمْ مَّرْجِعُهُمْ فَيُنَبِّئُهُمْ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۰۸﴾ وَاَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ جَهْدَ
اَيْمَانِهِمْ لَئِنْ جَآءَتْهُمْ اٰيَةٌ لَّيُؤْمِنُنَّ بِهَا ؕ قُلْ اِنَّمَا الْاٰيٰتُ عِنْدَ اللّٰهِ ؕ وَمَا يُشْعِرُكُمْ ۙ اَنَّهَآ اِذَا جَآءَتْ لَا
يُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۰۹﴾ وَنُقَلِّبُ اَفْـِٕدَتَهُمْ وَاَبْصَارَهُمْ كَمَا لَمْ يُؤْمِنُوْا بِهٖٓ اَوَّلَ مَرَّةٍ وَّنَذَرُهُمْ فِيْ طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُوْنَ ﴿۱۱۰﴾ ع ۱۹

اونهٔ ئے ته په دوی باندے ذمه وار(۱۰۷) او کنځل مه کوئ هغه کسا نوته چه دوی ئے بلی سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه پس کنځل به او کړی دوی اللّٰه تعالیٰ ته دَوجے دَ دُشمنئ نه بے علمه دغسے ډولی کړی دی مونږ هر اُمت ته عملونه دَ دوی بیابه رب دَ دوی ته پیش کیدل دَ دوی وی پس خبر به ورکړی دوی لره په هغه عملونو سره چه دوی ئیے کوی(۱۰۸) اوقسمونه کړیدی دوی په اللّٰه تعالیٰ کلك قسمونه خپل کهٔ راغلهٔ دوی ته معجزه خامخا دوی به ایمان راوړی په هغے اُوایه یقیناً (اختیار) دَ معجزاتو دَ اللّٰه تعالیٰ سره دے اوځه پوهیږئ تاسو کیدے شی چه دا معجزے که راشی نو دوی ایمان نهٔ راوړی(۱۰۹) (ځکه) چه اړوو راړوو زړونه دَ دوی او سترګے دَ دوی (دَ حق نه) ځکه چه ایمان نه دے راوړے دوی په دے باندے اول ځل اوپریږ دو مونږ دوی په سرکشئ دَ دوی کښ سرګردانه(۱۱۰)

[۱۰۷] دا علتونه دی دَ اعراض دپاره په درے طریقو سره اوتسلی ده نبی ته اوبیان کوونکو دَ توحید ته چه ستاسو په ذمه باندے صرف بیان کول دی هدایت کول اونه کول دَ اللّٰه تعالیٰ په اختیارکښ دی نوته پس دَ بیان نه نوره پرواه مکوه۔ نه، ته اللّٰه تعالیٰ دَ دوی ځوکیدارجوړکړے ئیے اونه ته پخپله دَ دوی ذمه وارئیے ﴿بِوَكِيْلٍ﴾ هغه ځوك چه تاوان اوذمه واری هغه ته راجع وی اوهغه له اختیار ورکړے شوے وی دَ طرف دَ مؤکل نه۔

[۱۰۸] دا بل ادب دَ دعوت دے ﴿وَلَا تَسُبُّوْا﴾ سَبّ په معنیٰ دَ نقصان بیانولو دے چه په هغے کښ دَ هغه ځیزدَشان کوتاهی او سپکوالے راځی نودانه دے جائزپه باره دَ معبودان باطله کښ۔ اودا وئیل چه دوی لائق دَ بندګئ نه دی اواختیارمند اوذمه واردَ نفعے اوضررنه دی اوحاجت روا اومشکل کشا نه دی داکنځل اوسب نه دے بلکه دا بیانول خوضروری دی ﴿وَلَا تَسُبُّوْا﴾ نبیﷺ سب دَ الهه دَ دوی چرے نه دے کړے لیکن مقصد په دے کښ ادب خودل دی۔ سب دوه قسمه دے یو هغه دے چه په هغے کښ توهین اودروغ وی هغه خوفی نفسه هم منع دے اوبل مباح دے چه په هغوی کښ کوم عیوب موجود وی اوهغه بیان کړے شی نودا خوفی نفسه جائزدی لیکن هرکله چه دا ذریعه گرځی دپاره دَ حرام چه سب دَ اللّٰه تعالیٰ دے نوذریعه دَ حرام هم حرام وی۔ نوپدے ایت کښ مسئله دَ سدّالذرائع ده نوکله چه دَ یومباح نه حرام ته فتنه جوړیږی نودَ هغه مباح نه که قول وی اوکه عمل وی ځان بچ کول پکاردی﴿فَيَسُبُّوا اللّٰهَ﴾ **سوال:** مشرکانوخواللّٰه تعالیٰ منلواودَ عظمت عقیده ئیے لرله نوځنګه هغوی اللّٰه تعالیٰ ته سب کوی؟ **جواب:** امام راغب وئیلی دی چه مراد دَ دے نه جګړه کول دی په توحیدکښ په باطله طریقے سره ﴿بِغَيْرِ عِلْمٍ﴾ دا سبب دے دَ عدوا یا علت دے دَ یسبواللّٰه دپاره ﴿لِكُلِّ اُمَّةٍ﴾ عام دے که امت دَ ایمان والووی اوکه دَ کفرشرك بدعت والا وی۔

[۱۰۹] دا جواب دَ سوال دے یعنی که ځوك ګمان اوکړی چه سب دَ دوی اللّٰه تعالیٰ لره په وجه دَ

وَلَوْ اَنَّنَا نَزَّلْنَآ اِلَيْهِمُ الْمَلٰٓئِكَةَ وَكَلَّمَهُمُ الْمَوْتٰى وَحَشَرْنَا عَلَيْهِمْ كُلَّ شَيْءٍ قُبُلًا مَّا كَانُوْا لِيُؤْمِنُوْٓا
اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ يَجْهَلُوْنَ ﴿١١١﴾ وَكَذٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا شَيٰطِيْنَ الْاِنْسِ
وَالْجِنِّ يُوْحِيْ بَعْضُهُمْ اِلٰى بَعْضٍ زُخْرُفَ الْقَوْلِ غُرُوْرًا ؕ وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ مَا فَعَلُوْهُ فَذَرْهُمْ وَمَا

اوکه مونږه نازل کړو دوی ته ملائك اوخبرے اوکړی دَ دوی سره مړی او راجمع کړو مونږ په دوی باندے هرشے مخامخ نه دی دوی چه ایمان راوړی مګر هغه وخت چه اوغواړی اللّٰه تعالیٰ اولیکن اکثر دَ دوی نه ناپوهه دی(۱۱۱) او دغسے جوړکړی دی مونږ هر پیغمبر لره دُشمنان شیطانان دَ انسانانو او پیریانونه وسوسے اچوی بعضے دَ دوی بعضوته (دروغ) ډولی کړیشوے خبرے دپاره دَ دهوکه کولو، اوکهٔ غوښتے وے رب ستا دوی به داکارنه وے کړے پس پریږده دوی سره دَ هغے

لناکاره استعداد سره نه دے بلکه دَ دے وجے چه دوی ته ایات مقترحه (چه دوی طلب کوی) نه راځی نوجواب اوشو ﴿وَاَقْسَمُوْا﴾ دلیل دے چه مشرکان کله کله په اللّٰه تعالیٰ باندے دَ هغه دَ عظمت دَ وجے نه قسم کوی ﴿جَهْدَ اَيْمَانِهِمْ﴾ قرطبي وئیلی دی چه مشرکانو به په غیراللّٰه باندے قسمونه کول اوپه اللّٰه تعالیٰ باندے هم قسم کول لیکن قسم په اللّٰه تعالیٰ باندے دوی پوخ قسم ګڼرلواودَ دے زمانے جاهلان په غیراللّٰه باندے قسم کول ډیرخطرناك ګڼړی په اللّٰه تعالیٰ باندے دَ قسم کولونه (نو دوی په دے جهت سره دَ زړومشرکانونه زیات ګمراه دی) ﴿اٰيَةٌ﴾ مراد دَ دے نه هغه معجزات دی چه دوی طلب کول دَدُنیا پرستۍ اودَ جهل دَ وجے نه۔ ﴿وَمَا يُشْعِرُكُمْ﴾ اشعاراوشعورپه معنیٰ دَ پوهه دے اوما استفهامیه انکاریه دے اوخطاب مؤمنانوته دے یعنی مؤمنانو دا ایت دَ مشرکانودپاره طلب کول په دے ګمان چه دوی به ایمان راوړی۔

[۱۱۰] دا علت اووجه ده دَ لَا يُؤْمِنُوْنَ دپاره۔ واؤپه معنیٰ دَعلت دے اوکما کاف هم په معنیٰ دَعلت دے ترتیب دا دے چه اول دوی ایمان نه دے راوړے دَ هغے وجے نه دَ دوی زړونه اوسترګے دَ حق نه واوړیدل نودَ دغه وجے نه سره دَ معجزاتونه دوی دَ ایمان نه محروم شول نوپه طغیان کښ همیشه دپاره پاتے شول۔ سوال: دلته ئے اسماع نه دے وئیلے؟ جواب: دلته بحث دَ معجزات محسوسه دے چه دوی دَ هغے مطالبه کوله۔ اودا سے معجزاتوله دَعبرت دپاره سترګے اوزړونه پکاردی اوپدے کښ غوړونه نه استعمالیږی۔

[۱۱۱] دا ایت بل جواب دے دَ دے قول دَ دوی چه لئن جاء تهم اٰية یعنی که دا معجزات دوی ته راشی نوهم ایمان نه راوړی دَ ضد اودَ عناد دَ وجے نه۔ دا ایت دوی غوختلے وژلکه په سورة اسراء(۹۲) اوسورة فرقان(۲۱) اوسورة انعام (۱۲٤) کښ په دے کښ دوی دَملائکوپه راتللواودَ اللّٰه تعالیٰ دَلیدلوطلب کړیدے اوپه سورة دخان (۳٦) اوجاثیه (۲۵) کښ طلب دَ اباؤدے چه مړه دی ﴿قُبُلًا﴾ جمع دَقبیل ده یعنی ډلے ډلے یا په معنیٰ دَمقابله ده(مخامخ) ﴿اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ﴾ اشاره ده چه ایمان هم په مشیت دَاللّٰه تعالیٰ سره دے لکه په سورة یونس(۱۰۰) کښ دی ﴿يَجْهَلُوْنَ﴾ عام دے جهل عنادی اوغیرعنادی ته۔

يَفْتَرُوْنَ ﴿١١٢﴾ وَلِتَصْغٰٓى اِلَيْهِ اَفْـِٕدَةُ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ وَلِيَرْضَوْهُ وَلِيَقْتَرِفُوْا مَا هُمْ
مُّقْتَرِفُوْنَ ﴿١١٣﴾ اَفَغَيْرَ اللّٰهِ اَبْتَغِيْ حَكَمًا وَّهُوَ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ اِلَيْكُمُ الْكِتٰبَ مُفَصَّلًا ؕ وَالَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ
الْكِتٰبَ يَعْلَمُوْنَ اَنَّهٗ مُنَزَّلٌ مِّنْ رَّبِّكَ بِالْحَقِّ فَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الْمُمْتَرِيْنَ ﴿١١٤﴾ وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ

چه دوی څه دروغ جوړوی(۱۱۲) او دے دپاره چه مائل شی دے (دروغوته) زړونه دَهغه کسانو چه ایمان نهٔ لری په آخرت باندے اوچه خوښ کړی دوی دا(دروغ)اوچه کوی دوی هغه څه چه کوی دوی همیشه (۱۱۳) ایاپس سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه اوغواړم فیصله کؤونکے او اللّٰه تعالیٰ هغه ذات دے چه نازل کړے دے تاسوته کتاب په تفصیل سره اوهغه کسان چه ورکړیدے مونږ دوی ته کتاب یقین کوی چه دا قرآن نازل کړے شوے دے دَ طرف دَ رب ستانه دپاره دَحق پس مه کیږه تهٔ دَشك کؤونکو نه (۱۱٤) اوپوره ده کلمه دَ رب ستا

[۱۱۲] دا څلورمه عقبه دَ تبلیغ ده چه کله بیان دَ مسئلے دَ توحید خورشی نوشیطانان انسی (علماء سوء) وغیره راپورته شی اوعوامو خلقوته دَشرك اوبدعت خبرے خائسته کوی (دا زخرف القول دے) اودَ حق پرستوسره دَ مناظرے کوشش کوی او ربط دَ ایت دا دے چه محکمبن بیان شول عدم ایمان دَ منکرینوسره دَ معجزاتو راتللونه اوس ظاهری مانع دَ هغے ذکرکوی چه هغه وسوسے دَ شیطانانودی اوپه ایت کښ تسلی ده نبیﷺ ته﴿يُوْحِيْ﴾ وحی پتے القاء ته وئیلے شی نوپه وسوسه ئیے هم اطلاق کیږی اوپدے اطلاق کښ نکته دا ده چه په داسے حال کښ هغه وسوسے والا دعویٰ کوی چه ماته وحی شویده یا پشان دَ وحی کښږی﴿زُخْرُفَ الْقَوْلِ﴾ داپه طریقه دَ تشبیه سره دے لکه چه اوسپنه یا تانبه وی اوسروزرو اوبه ورله ورکړیشی نو خلقوله دهوکه ورکوی نودا رنګ باطل قول (دَکفراوشرك اوبدعت کلمے) لره خائیست ورکړی او وائي چه دا خائسته کلمه ده اوحسنه بدعت دے نودے ته زخرف القول وئیلے شی ﴿غُرُوْرًا﴾ دا مفعول له دے یعنی دپاره دَ دهوکه کولودَ خلقو ﴿فَذَرْهُمْ﴾ مراد دَ دے نه انتظار اومهلت ورکول دی ترعذاب الٰهی پورے۔

[۱۱۳] دا عطف دے په غروراً باندے اودا دَ درے وسوسومقصدونه دی ﴿وَلِتَصْغٰى﴾ اصغاء قوی میلان ته وئیلے شی ﴿الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ﴾ ایمان بالاخرة په حقیقت کښ منع کوونکے دے دَ هرباطل پرستئ نه۔ حاصل دَ دے دا دے چه انسان جاهل اول په زخرف القول سره دهوکه شی نوبیا ورته غوږکیدی اومیلان اوکړی اوبیا وربانده خوشحاله شی نوبیا هغه عملونه باطلوباندے همیشګیری شروع کړی ﴿مُقْتَرِفُوْنَ﴾ مراد دَ دے نه اعمال (شرکیه) او بدعات دی۔

[۱۱٤] دَ ایت مطلب دا دے چه په وخت دَ مناظرے کښ فیصله به په اللّٰه تعالیٰ وی یعنی دَ هغه کتاب اونیکان علماء هم دَ دے تائیدکوی۔ دَ ایت په اول کښ لفظ دَ قل پټ مراد دے او استفهام انکاری دے یعنی په وخت دَ مناظرے اوفیصله کښ دَ اللّٰه تعالیٰ نه سیوا بل حکم نشی منلے کیدلے اوداسے په سورة شوریٰ (۱۰)کښ دی ﴿وَهُوَ الَّذِيْ﴾ دابیان دَ حکمیت دَ اللّٰه تعالیٰ دے یعنی دَ اللّٰه تعالیٰ قرآن حَکم دے او تفسیر سمعانی کښ وئیلی دی چه مشرکینودَ نبیﷺ نه مطالبه اوکړه اجعل بیننا وبینك حکماً (زمونږاوستا مینځ

صِدْقًا وَّعَدْلًا ؕ لَا مُبَدِّلَ لِكَلِمٰتِهٖ ۚ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿١١٥﴾ وَاِنْ تُطِعْ اَكْثَرَ مَنْ فِى الْاَرْضِ
يُضِلُّوْكَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ اِنْ يَّتَّبِعُوْنَ اِلَّا الظَّنَّ وَاِنْ هُمْ اِلَّا يَخْرُصُوْنَ ﴿١١٦﴾ اِنَّ رَبَّكَ هُوَ اَعْلَمُ
مَنْ يَّضِلُّ عَنْ سَبِيْلِهٖ ۚ وَهُوَ اَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِيْنَ ﴿١١٧﴾ فَكُلُوْا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللّٰهِ عَلَيْهِ اِنْ كُنْتُمْ بِاٰيٰتِهٖ
مُؤْمِنِيْنَ ﴿١١٨﴾ وَمَا لَكُمْ اَلَّا تَاْكُلُوْا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللّٰهِ عَلَيْهِ وَقَدْ فَصَّلَ لَكُمْ مَّا حَرَّمَ عَلَيْكُمْ اِلَّا

په رشتینوالی اوپه انصاف سره، نیشته څوك بدلوونکے دَکلمو دَهغه او هغه هر څه اوری اوپوهه دے په هرڅه (۱۱۵) او کهٔ تابعداری کوے دَ ډیرو دَهغه چاچه په زمکه کښ دی وابه ړوی تاله دَ لارے دَ اللّٰه تعالیٰ نه، دوی نه کوی تابعداری مگر دَګمان اونه دی دوی مگر په توك کارونه کوی (۱۱٦) یقیناً ستارب هغه ښه پوهه دے په هغه چاچه اوړی دَ لارے دَ اللّٰه تعالیٰ نه اوهغه ښه پوهه دے په هدایت والو (۱۱۷) پس خورئے دَهغے نه چه یاد شوے وی خاص نوم دَ اللّٰه تعالیٰ په هغے باندے که تاسویئ په احکامو دَ اللّٰه تعالیٰ ایمان لرونکی(۱۱۸) اوڅه عذر دے ستاسو چه نه خورئے تاسو دَهغه څیزنه چه یاد کړے شی خاص نوم دَ اللّٰه تعالیٰ په هغے باندے یقیناً تفصیل کوی تاسوته دَهغه څیزونو چه حرام کړی دی په تاسو باندے مگر

کښ حکم مقررکړه) نوجواب اوشو ﴿اَفَغَيْرَ اللّٰهِ﴾ سره ﴿مُفَصَّلًا﴾ تفصیل په اعتبارد ایمانیاتواودَ عقیدے سره پوره موجود دے په قرآن کښ ﴿وَالَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ﴾ مراد دَ دے نه نیکان کتابیان دی اوپه دے سره دلیل نقلی او شهادت دَ هغوی پیش کوی دَ تاکید دَحاکمیت دَکتاب اللّٰه دپاره دَ دے سورت (۲۰) کښ اوسورة بقره (۱٤٦) کښ هم داسے شته ﴿فَلَا تَكُوْنَنَّ﴾ خطاب نبی ته دے اومراد ترینه اُمت دے۔

[۱۱۵] دا په کتاب اللّٰه دَ فیصلے کولو وجه ده چه صدق اوعدل دَ دے کتاب پوره دے اوپدے کښ څوك تبدیل کوونکے هم نیشته اوداسے بل کتاب نیشته دَ دے وجے نه حَکَم به داکتاب وی ﴿صِدْقًا﴾ په اخباراتو کښ او ﴿عَدْلًا﴾ په اوامرو اونواهی کښ ﴿كَلِمَتُ رَبِّكَ﴾ دا نوم دَ قرآن دے مفرد په اعتبارد جنس اومجموعه سره یعنی ټول کتاب اللّٰه په صدق او عدل کښ یوشان دے ﴿لَا مُبَدِّلَ لِكَلِمٰتِهٖ﴾ دلته ئے جمع اوئیله اشاره ده چه په یویو کلمه کښ هم تبدیل نشی کیدلے اوداسے په سورة کهف (۲۷) کښ اوسورة یونس (٦٤) کښ دی۔

[۱۱٦] دلیل دَ اهل حق ذکر شونواوس دلیل دَ مخالفینوذکرکوی دا رد دے په دلیل دَ اهل باطل باندے چه اکثریت دے او اتباع دَګمان ده اوپه توك (بے دلیله) خبروپسے تلل دی تابعداری دَ ظن په عقیدوکښ کوی اوخرص په عملونوکښ دے دارنګ اتباع دَ ظن دَ ګمراهوعالمانوکاردے۔ اوخرص (بے دلیله) عملونه کول دَ مقلدینوطریقه ده۔

[۱۱۷] مخکښ تقابل دَګمراهانواونیکانوذکرشوپه طریقه دَ استدلال کښ اوس دَ هغوی امتیاز اوفرق ذکرکوی په علم دَاللّٰه تعالیٰ کښ اوعلم دَ اللّٰه تعالیٰ په فریقینومستلزم دے جزاء اوسزا ورکولوپاره۔

[۱۱۸] دَ دے ځائے نه ترآخره پوره دویمه حصه دَ سورت ده اوپه دے کښ درے بابونه دی اول باب تر(۱۳۵) پورے دے په دے کښ اول رد دے په تحریم دَغیراللّٰه اوپه نذردَ غیراللّٰه باندے اودوه عَقَبے دَ تبلیغ ذکردی اوتقابل دے په دوو ډلوکښ او تخویف اُخروی دی۔ ربط دَ دے دَ ماقبل سره دا دے چه هر کله دَ

مَا اضْطُرِرْتُمْ اِلَيْهِ ؕ وَاِنَّ كَثِيْرًا لَّيُضِلُّوْنَ بِاَهْوَآئِهِمْ بِغَيْرِ عِلْمٍ ؕ اِنَّ رَبَّكَ هُوَ اَعْلَمُ بِالْمُعْتَدِيْنَ ﴿۱۱۹﴾
وَذَرُوْا ظَاهِرَ الْاِثْمِ وَبَاطِنَهٗ ؕ اِنَّ الَّذِيْنَ يَكْسِبُوْنَ الْاِثْمَ سَيُجْزَوْنَ بِمَا كَانُوْا يَقْتَرِفُوْنَ ﴿۱۲۰﴾ وَلَا تَاْكُلُوْا
مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللّٰهِ عَلَيْهِ وَاِنَّهٗ لَفِسْقٌ ؕ وَاِنَّ الشَّيٰطِيْنَ لَيُوْحُوْنَ اِلٰٓى اَوْلِيٰٓئِهِمْ لِيُجَادِلُوْكُمْ ۚ وَاِنْ
اَطَعْتُمُوْهُمْ اِنَّكُمْ لَمُشْرِكُوْنَ ﴿۱۲۱﴾ اَوَمَنْ كَانَ مَيْتًا فَاَحْيَيْنٰهُ وَجَعَلْنَا لَهٗ نُوْرًا يَّمْشِيْ بِهٖ فِى النَّاسِ ع ۱۴

هغه څه چه مجبوره شئے هغے ته اویقیناً ډیر خلق خامخا ګمراه کول کوی په خواهشاتو خپلو سره بے دَ علم (دلیل) نه یقیناً رب ستا هغه ښه پوهه دے په تیرونکو دَحدنه (۱۱۹) او پریګدئ بنکاره ګناه اوپټه ګناه یقیناً هغه کسان چه کوی ګناهونه زر دے سزابه ورکړے شی دوی ته په بدله دَ هغه کارونو چه دوی کوی(۱۲۰) اومه خورئے دَهغے نه چه نهٔ وی یاد کړیشوے نوم دَ اللّٰه تعالیٰ په هغے باندے او یقیناً داوتل دی دَ حکم دَ اللّٰه تعالیٰ نه اویقیناً شیطانان خامخا وسوسے اچوی دوستانو خپلوته دے دپاره چه جګړه اوکړی ستاسو سره اوکه خبره اومنئے تاسو دَ دوی یقیناً تاسوبه خامخا مشرکان یئ (۱۲۱) آیا هغه څوك چه مړوی پس ژوندے کړو مونږ هغه او ورکړو مونږ هغه ته رنړا ګرځی په هغے سره په خلقو کښ

جاهلانو باطل دلیلونوباندے رد اوکړو نواوس دَ هغوی په باطل تحریم اوتحلیل (چه شرك فعلی دے) ردکوئ ﴿فَكُلُوْا﴾ یعنی حلال ئے ګنړئے اومه حراموئے هغه حلال ځیزونه چه نوم دَ اللّٰه پرے یاد شوے وی په وخت دَ نذرکولواوپه وخت دَ ذبح کولوکښ۔ په دے ایت کښ رد دے په تحریم لغیراللّٰه باندے ﴿ذُكِرَاسْمُ اللّٰهِ﴾ دَ دے نه معلومه شوه چه نوم دَ غیراللّٰه وربانده ذکرشی نوهغه حرام دے لکه شربینی دا لیکلی دی ﴿مُؤْمِنِيْنَ﴾ یعنی ایمان بالآیات تقاضاکوی چه حرام کول اوحلال کول به بغیرَ اللّٰه تعالیٰ نه دَ بل هیڅا نه منئے۔

[۱۱۹] دا هم رد دے په تحریم دَ غیراللّٰه باندے اوتاکید دے دَ حکم دَ ما قبل چه فکلوا اه دے ﴿وَقَدْ فَصَّلَ﴾ سوال: دَ دے نه مخکښ تفصیل نه دے شوے ځکه چه دَ دے نه وړاندے مکی سورتونو کښ تفصیل دَ حلال اوحرام نیشته اوسورة بقره اومائده کښ تفصیل شته لیکن هغه دَ دے سورت نه روستو نازل شوے دی نوفَصَّلَ فعل ماضی څه معنیٰ لری؟ **جواب:** بلکه مراد دَ فَصَّلَ نه يُفَصِّلُ دے یعنی تفصیل به اوکړی ﴿اِلَّا مَااضْطُرِرْتُمْ﴾ استثناء کښ اشاره ده چه مرداره وینه خنزیرما اهل په وخت دَ اضطرارکښ حرام نه دی نوپه وخت دَ اضطرارکښ حکم دا دے چه ځان دَ مرګ نه دَ بچ کولودپاره دَ هغے نه خامخا به خوراك کوی﴿وَاِنَّ كَثِيْرًا﴾ په دے کښ عمروبن لحی اودَ هغه مقلدینوته اشاره ده اودوی ته معتدین وئیلے شویدی۔

[۱۲۰] ﴿ظَاهِرَالْاِثْمِ﴾ نه مراد هغه ګناهونه دی چه دَ بنکاره بدن سره تعلق لری یا بنکاره کیږی اوپه دے کښ شرك فعلی داخل دے ﴿وَبَاطِنَهٗ﴾ هغه ګناهونه چه دَ عقیدے او زړه سره تعلق لری یا پټ کیږی اوپه دے کښ شرك اعتقادی داخل دے﴿سَيُجْزَوْنَ﴾ په ایت کښ تخصیص دے په سبب دَ اياتونودَ توبے اودَ مغفرت سره یعنی چه اللّٰه تعالیٰ نه وی بخلے او انسان توبه نه وی کړے نوسزا ورکول لازم دی۔ اودا رنګ لفظ دَ سیجزون وعید دے مستلزم وجوب لره نه دے نودَ دے وجو نه متعزله په دے ایت سره دلیل نیولے نشی۔

[۱۲۱] دا رد دے په نذردَ غیراللّٰه باندے دا قول دَ عطاء نه نقل دے اودارنګ مردارے پکښ داخل دی

كَمَنْ مَّثَلُهٗ فِي الظُّلُمٰتِ لَيْسَ بِخَارِجٍ مِّنْهَا ؕ كَذٰلِكَ زُيِّنَ لِلْكٰفِرِيْنَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿١٢٢﴾ وَكَذٰلِكَ
جَعَلْنَا فِيْ كُلِّ قَرْيَةٍ اَكٰبِرَ مُجْرِمِيْهَا لِيَمْكُرُوْا فِيْهَا ؕ وَمَا يَمْكُرُوْنَ اِلَّا بِاَنْفُسِهِمْ وَمَا يَشْعُرُوْنَ ﴿١٢٣﴾ وَاِذَا
جَآءَتْهُمْ اٰيَةٌ قَالُوْا لَنْ نُّؤْمِنَ حَتّٰى نُؤْتٰى مِثْلَ مَآ اُوْتِيَ رُسُلُ اللّٰهِ ؔ اَللّٰهُ اَعْلَمُ حَيْثُ يَجْعَلُ رِسَالَتَهٗ ؕ

وقف منزل وقف لازم

پشان دَهغه چاكيدے شی چه وی په تيارو كښ نه وی دے وتونكے دهغے نه دغسے ډولی كړے شويدی كافرانو لره هغه عملونه چه دوی كوی(۱۲۲) او دغسے گرځولی دی مونږ په هر كلی كښ غټ خلق مجرمان دَهغے دے دپاره چه چل ول كوی (په خلاف دَحق) په هغه كلی كښ اونه كوی چل ول مگر په ځانونو خپلو اونه پوهيږی دوی (۱۲۳) او كله چه راشی دوی ته څه نښه دوی وائی چرے ايمان نه راوړو مونږ ترهغے پورے چه راكړيشی مونږ ته پشان دَهغے چه وركړے شوی دی رسولانو دَ اللّٰه تعالیٰ ته، اللّٰه تعالیٰ ښه پيژنی هغه ځائے چه مقرر كوی (په هغه ځائے كښ) پيغام خپل

اوذبح دَ مسلمان چه ذكرَ اسم اللّٰه ئيے قصداً ترك كړے وی نوپه هغے كښ اختلاف دے ﴿وَاِنَّهٗ لَفِسْقٌ﴾ ضمير راجع دے ذبح دَ غيراللّٰه ته اودا فسق اعتقادی دے لكه دَ دے سورت په (۱۴۵) كښ يا راجع دے اكل ته اودا فسق عملی دے ﴿وَاِنَّ الشَّيٰطِيْنَ لَيُوْحُوْنَ﴾ مراد دَ شياطين نه علماء سوء دی وسوسے اچوی عواموته او زجاج وئيلی دی چه دا دليل دے چه څوك حرام لره حلال گنړی ياحلال لره حرام گنړی دارنگ نذردَغيراللّٰه چه حلال گنړی نودا مشرك دے۔ دارنگ دا دليل دے چه دَ دے اُمت نه څوك شرك اوكړی اگرچه شرك فی الحكم والتشريع وی نوهغه ته مشرك وئيلے شی۔

[۱۲۲] دا تقابل دے دَ دوو ډلواوترغيب دے توحيد اوقرآن ته ﴿مَيْتًا﴾ نه مراد شرك دے په هغه شركونوسره چه مخكښ ايا تونوكښ بيان شول اوحيات نه مراد توحيد دے اودارنگ دَميت نه مراد جاهل دے اواحياء نه مراد علم وركول دی ﴿فَاَحْيَيْنٰهُ﴾ دا حيات په روح دَ معرفت الٰهی اوتوحيد سره دے څكه حيات دَ روح په دے سره حاصيلږی نوپه يو جانب كښ حيات اونوردے اوبل جانب كښ موت (شرك اوجهل) اوظلمت دے۔ په دے ايت كښ رد دے په سيكولرازم باندے چه دَكفراواسلام فرق نه كوی او رد دے په هغه جاهلانوباندے چه يوانسان دَكفراوشرك اوبدعت اوجهل نه توحيد سنت اوعلم ته نقل شی نودوی ورپسے مسخرے كوی او ﴿نُوْرًا﴾ نه مراد قرآن دے ﴿يَمْشِيْ﴾ نه مراد دَ دعوت دَ توحيد دپاره گرځيدل دی يا په قرآن باندے عمل كول مراد دی ﴿كَذٰلِكَ﴾ لكه چه مؤمن ته ايمان خائسته كړے شوے دے نودارنگ كافرته كفرخائسته كړے شوے دے۔

[۱۲۳] دا پنځمه عقبه دَ تبليغ ده چه كله دَ علماؤدَ مقابلے انتها اوشی نودوی غټانواواقتداروالوته رپورټونه دَ مؤحدپه خلاف كوی نوهغوی دَ مؤحد په مخالفت كښ سخت مكرونه اوكړی قيد ئيے كړی يا ئے وطن نه اوشړی وغيره نواللّٰه تعالیٰ فرمائي چه دَ دوی دَ مكرونوبداثربه په دوی باندے پريوځی۔ ﴿اَكٰبِرَ﴾ دائيے دَ دے وجے نه مخكښ كړو چه اشاره اوشی چه كبر دَ دغه خلقوسبب دَ جرمونو او گرځيدلو ﴿لِيَمْكُرُوْا﴾ لام دَعاقبت دے اوداسے په سورة اسراء(۱۶) اوسورة نوح(۲۲) كښ دی اومقابله دَ دے كښ قرآن اوحديث هرقل نه معلومه ده چه تابعداران دَ رسولانوكمزوری خلق دی اومراد دَمكرنه

سَيُصِيْبُ الَّذِيْنَ اَجْرَمُوْا صَغَارٌ عِنْدَ اللّٰهِ وَعَذَابٌ شَدِيْدٌ ۢ بِمَا كَانُوْا يَمْكُرُوْنَ ﴿١٢٤﴾ فَمَنْ يُّرِدِ اللّٰهُ اَنْ
يَّهْدِيَهٗ يَشْرَحْ صَدْرَهٗ لِلْاِسْلَامِ ۚ وَمَنْ يُّرِدْ اَنْ يُّضِلَّهٗ يَجْعَلْ صَدْرَهٗ ضَيِّقًا حَرَجًا كَاَنَّمَا يَصَّعَّدُ
فِي السَّمَآءِ ۭ كَذٰلِكَ يَجْعَلُ اللّٰهُ الرِّجْسَ عَلَى الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿١٢٥﴾ وَهٰذَا صِرَاطُ رَبِّكَ مُسْتَقِيْمًا ۭ قَدْ

زردے اوبه رسی هغه کسانوته چه جرم ئے کړیدے سپکوالے په نیز دَ اللّٰه تعالیٰ اوعذاب سخت په سبب دَهغه چه دوی چل ول جوړوی(١٢٤) پس هغه څوك چه اوغواړی اللّٰه تعالیٰ چه هدایت اوکړی هغه ته پرانځی سینه دَهغه اسلام ته اوهغه څوك چه اوغواړی چه بے لارے ئے کړی هغه اوګرځوی سینه دَهغه تنګیدونکے غصه کیدونکے ګویاکه په زور خیژی په بره طرف کښ دغسے مقرر کوی اللّٰه تعالیٰ بے خیری په هغه کسانو چه ایمان نه راوړی(١٢٥) او دا (قرآن) لار دَرب ستا ده نیغه یقیناً

(ابن کثیر وئیلی دی) دعوت دَګمراهئی دے سفیان نه نقل دے هرمکرپه قرآن کښ عمل دے او ایذاء ورکول مؤحد ینوته هم په مکرکښ داخل دی۔

[١٢٤] دا ذکرد مکردَاکابرودے اوتکبردَ هغوی دے دازورنه ده چه غټان دَ تکبردَ وجے نه دَرسول سره ځان برابروی او نزول دَ ملائکواو رسالت غواړی دَ هغے جواب اوشوپه دے قول سره اللّٰه اعلم آه یعنی دا نبی په خاندان او قوم اودَ اخلاقو اوکردارد وجے نه اللّٰه تعالیٰ پیژندلو چه دے اهل دَرسالت دے دَ دهٔ مثل نیشته ﴿عِنْدَاللّٰهِ﴾ مراد دَ دے نه ورځ دَ قیامت ده یا په معنیٰ من عنداللّٰه دے نودُنیا ته هم شامل دے دا قول دَ فراء دے او﴿حَتّٰى نُؤْتٰى مِثْلَ﴾کښ دا مطلب هم کیدیشی چه زمونږمُلایان دِ مونږته هغه مسئلے اوکړی کومے چه دارسولان (اوحق پرست) ئیے کوی۔

[١٢٥] دا فائده دَ رسالت حقه ده اودا تقابل دے دَ دوو ډلوپه اکابروکښ یعنی اللّٰه تعالیٰ چه چاته هدایت کول غواړی او په حدیث کښ دَ دے درے علامات ذکرکړی دی انابت کول جنت ته، پرهیزکول دَ دُنیا نه اودَ مرګ دپاره تیاری کول مخکښ دَ راتللودَ مرګ نه، نوهغه په توحید اوسنت پوهه کړی اودَ هغه دَ زړه نه شکونه لرے کړی اوتکالیف دَ دین ورته اسان کړی دے درے واړوصفاتوته شرح صدر وائي اوځوك چه ګمراه کول غواړی نوتوحید اوسنت اوریدلوباندے ډیرتنګیږی اوبیا سخت غصه شی اودا منل ورته دومره سخت بشکاری لکه بره ډیرئے یا غرته ختل یا ضیق په طوردَ تشبیه سره دے یعنی ایمان پکښ نه داخلیږی او﴿حَرَجًا﴾ په زور دَ راء سره په معنیٰ دَ ذا خَرَجٍ اوپه کسره دَ راء سره په معنیٰ دَ سخت تنګ دے ﴿كَاَنَّمَا يَصَّعَّدُ﴾ ابن جریر وئیلی دی چه داهم بومثال دے لکه چه یو انسان اسمان ته نشی ختلے نودارنګ دَ دے ګمراه په زړه کښ ایمان نشی داخلیدلے ﴿كَذٰلِكَ يَجْعَلُ اللّٰهُ الرِّجْسَ﴾ لکه چه سینه دَ هغه ئے تنګه ګرځولے ده دغه شان رجس هم په دوی باندے اچوی زجاج وئیلی دی چه رجس په دُنیاکښ لعنت دے اوپه آخرت کښ عذاب دے۔

فَصَّلْنَا الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّذَّكَّرُوْنَ ﴿١٢٦﴾ لَهُمْ دَارُ السَّلٰمِ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَهُوَ وَلِيُّهُمْ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿١٢٧﴾ وَيَوْمَ
يَحْشُرُهُمْ جَمِيْعًا ۚ يٰمَعْشَرَ الْجِنِّ قَدِ اسْتَكْثَرْتُمْ مِّنَ الْاِنْسِ ۚ وَقَالَ اَوْلِيٰٓؤُهُمْ مِّنَ الْاِنْسِ رَبَّنَا
اسْتَمْتَعَ بَعْضُنَا بِبَعْضٍ وَّبَلَغْنَآ اَجَلَنَا الَّذِيْٓ اَجَّلْتَ لَنَا ۭ قَالَ النَّارُ مَثْوٰىكُمْ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اِلَّا مَا شَاۗءَ
اللّٰهُ ۭ اِنَّ رَبَّكَ حَكِيْمٌ عَلِيْمٌ ﴿١٢٨﴾ وَكَذٰلِكَ نُوَلِّيْ بَعْضَ الظّٰلِمِيْنَ بَعْضًۢا بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿١٢٩﴾ ع ١٤

په تفصیل سره بیان کړیدی مونږ آیتونه هغه قوم لره چه نصیحت قبلوی(۱۲۶) دوی لره کور دَ سلامتیا دے په نیز دَ رب دَ دوی اوهغه مددګار دَ دوی دے په سبب دَهغه عمل چه دوی کوی(۱۲۷) اوپه کومه ورځ چه جمع به کړی دوی ټولو لره (اُوبه وائی) اے ډلے دَپیریانو یقیناً ډیر تابع کړی دی تاسو په انسانانو دَ انسانانونه او وائی به دوستان دَ دوی دَ انسانونه اے ربه زمونږ فائدے اغستے دی بعضے زمونږ په بعضو سره اورسیدلی یو مونږ نیټے خپلے ته هغه چه تامقرر کړیده مونږ لره اوبه وائی اللّٰه تعالیٰ اُورستاسودَ اوسیدلو ځائے دے همیشه به یئ په هغے کښ مګر هغه چه اوغواړی اللّٰه تعالیٰ یقیناً ستاسب حکمتونو والا دے پوهه دے په هر څهٔ (۱۲۸) او دغسے ملګرے کړو مونږ بعضے ظالمان دَ بعضو سره په سبب دَ هغه عملونو چه دوی ئے کوی (۱۲۹)

[۱۲۶] دا ترغیب دے قرآن ته روستودَ طریقے دَګمراهانونه اودارنګ چه مخکښ یشرح صدره ذکرکړونواوس سبب دَ یشرح صدره ذکرکوی اوهذا کښ اشاره ده بیان اومضمون دَ قرآن ته ﴿الْاٰيٰتِ﴾ مراد ترینه قرآنی اياتونه دی چه یوبل نه جدا جدا دی دَ هرمسئلے اومضمون دپاره مستقل اياتونه دی۔

[۱۲۷] دا زیرے اُخروی دے دپاره دَ منونکو ﴿دَارُالسَّلٰمِ﴾ حسن وئیلے دی چه سلام نوم دَ اللّٰه تعالیٰ دے او زجاج وئیلے دی چه سلام مصدر دے په معنیٰ دَ سلامتیا دَ ټولو افتونونه یا سلام نه مراد تحیه ده یعنی کوردَ ډیرو سلامونودے دَ هرطرف نه به سلام وی ﴿عِنْدَرَبِّهِمْ﴾ کښ اشاره ده چه دَهغے دَ نعمتونوتفصیلی علم صرف اللّٰه تعالیٰ سره دے ﴿وَلِيُّهُمْ﴾ ولی په معنیٰ دَ حافظ ناصرمؤید (ابن کثیر) اوذمه دار دَکارونو دَ دوی بل چاته ئے نه سپاری (شربینی)۔

[۱۲۸] دایره اُخروی ده دپاره دَ نه منونکو ﴿اسْتَمْتَعَ بَعْضُنَا بِبَعْضٍ﴾ دا اعتراف دَ جرم دے لویوپیریانوبه انسانانولره په ځنګلاتو کښ دَ ورڅپیریانونه سائنه کوله دارنګ دَ پیریانوپه ذریعه عاملان دَ جناتوڅه بعض کارونه کوی دارنګ په چاچه جن راشی نوهغوی په دهوکو اودروغوسره دَ خلقونه روپئی اوسامانونه حاصلوی دا فائدے دَ انسانانودی په ذریعه دَ جناتو سره اوانسانانوبه دَ پیریانوپه نوم باندے نذرانے کولے اودَ پیریانونه یره کوی۔ شیخ الاسلام په تفسیرکښ دَ دے استمتاع ډیر صورتونه ذکرکړی دی ﴿اِلَّا مَاشَآءَ اللّٰهُ﴾ دَ دے نه مراد دَ اورنه علاوه نورعذابونه دی لکه زمهریر اومکان دَ خوراك څښتكاك یاموُمنان ګنهګارترینه مراد دی۔

[۱۲۹] دا شپږمه عقبه دَ تبلیغ ده چه اخری مرحله ده یعنی حق پرست دے ته اورسی چه ظلم یعنی شرك اوبدعت والا ټول دَ دهٔ په مقابله کښ متفق شی اودَ دهٔ سره تعلقات پریږدی۔ دَ دے ایت بله معنیٰ دا ده چه په ظالمانوباندے نورو ظالمانولره حاکمان اوګرځوی اودا عذاب دُنیوی دے بنا په اول باندے ﴿نُوَلِّيْ﴾ دَ ولایت نه په معنیٰ دَ دوستانے دے یعنی باطل پرست ظالمان دَ یو بل سره ملګرتیاکوی په مقابله دَ

يٰمَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ اَلَمْ يَاْتِكُمْ رُسُلٌ مِّنْكُمْ يَقُصُّوْنَ عَلَيْكُمْ اٰيٰتِيْ وَيُنْذِرُوْنَكُمْ لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هٰذَا ؕ قَالُوْا شَهِدْنَا عَلٰٓى اَنْفُسِنَا وَغَرَّتْهُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا وَشَهِدُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ اَنَّهُمْ كَانُوْا كٰفِرِيْنَ ﴿۱۳۰﴾ ذٰلِكَ اَنْ لَّمْ يَكُنْ رَّبُّكَ مُهْلِكَ الْقُرٰى بِظُلْمٍ وَّاَهْلُهَا غٰفِلُوْنَ ﴿۱۳۱﴾ وَلِكُلٍّ دَرَجٰتٌ مِّمَّا عَمِلُوْا ؕ وَمَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ عَمَّا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۳۲﴾ وَرَبُّكَ الْغَنِيُّ ذُو الرَّحْمَةِ ؕ اِنْ يَّشَاْ يُذْهِبْكُمْ وَيَسْتَخْلِفْ

(اوبه وائی) اے ډلے دَپیریانو او انسانانو ایانه دی راغلی تاسوته رسولان ستاسونه چه بیانول ئے په تاسو باندے ایاتونه ځما او ویره ئیے درکوله تاسوته دَ ملاقات دَ دے روځے نه اوبه وائی دوی اقرار کوومونږ په ځانونو خپلو(چه دوی تبلیغ کړے وو) اودهوکه کړیدی دوی لره ژوند دُنیوی او اقرار به اوکړی په ځانونو باندے چه دوی کافران ؤو(۱۳۰) دا دَ دے وجے نه چه نهٗ دے ستارب هلاکؤونکے دَ کلو په سبب دَشرك دَهغوی چه اوسیدونکی دَهغے بے خبره وی(۱۳۱) او دَ هریو دپاره مختلفے مرتبے دی دَوجے دَعملونو دَ دوی نه اونه دے رب ستا غافل دَ هغے نه چه دوی ځه عملونه کوی(۱۳۲) او رب ستا بے حاجته دے رحمت والادے که اوغواړی بوبه ځی تاسو اونائبان به کړی

صالحینو کښ اوبنا په دویمه معنیٰ باندے نولی دَ ولایت نه حکومت دے په اوله معنیٰ سره دا اخری عقبه ده په دویمه معنیٰ تخویف دُنیوی دے۔

[۱۳۰] دا هم یره اُخروی ده اوپیریانوکښ دَ آدم علیه السلام نه بعد اودَ محمد ﷺ نه مخکښ دَ رسولانوپه راتلوکښ دَ علماؤ اختلاف دے لیکن دَ حق داعیان پکښ ډیر راغلی دی۔ دَ اکثرعلماؤ قول دادے چه دَ آدم علیه السلام نه روستو جناتو کښ پیغمبرنه دے راغلے اودَ حق داعیان (نذیران) پکښ راغلی دی دا ابن جریراوابن کثیرغوره کړیدے نو ﴿مِنْكُمْ﴾ خطاب کښ ډیراقوال دی اول داچه خطاب په اعتباردَ مجموعه سره دے تغلیب ئیے ورکړے دے انس لره په جن باندے دویم داچه رسل په معنیٰ دَ نذیرسره دے ﴿يَقُصُّوْنَ﴾ لوئے مقصد دَ رسولانو اياتونه دَ توحید اوتذکیردَ قیامت دے ﴿شَهِدْنَا عَلٰٓى اَنْفُسِنَا﴾ دا روستودَ گواهئی دَ اندامونونه ﴿وَغَرَّتْهُمُ﴾ دا علت دَ تکذیب دے اودا دَ جانب دَ اللّٰه تعالیٰ نه جمله معترضه ده ﴿اَنَّهُمْ كَانُوْا كٰفِرِيْنَ﴾ اول شهادت دَ اقرار دَ رسولانودے اودویم دَکفرکولودے۔

[۱۳۱] دا دَ رسول دَ رالیګلووجه ذکرکوی کوم چه مخکښ ایت کښ ذکردَ ارسال الرسول وؤچه کله خلق په شرك کښ اخته وی لیکن رسول ورته نهٗ وی راغلے اوبیان دَتوحید اودَحق ورته نه وی شوے نودوی له په دُنیاکښ عذاب نه ورکوی ﴿بِظُلْمٍ﴾ نه مراد ظلم دَخلقودے په کفروشرك اوبدعملونو سره لیکن مخکښ دَ ارسال رسول نه عذاب نه ورکوی لکه سورة اسراء(۱۵)کښ دی دویم قول دا دے چه دَ ارسال رسول نه مخکښ عذاب ورکول ظلم دے لیکن اول قول غوره دے ځکه اللّٰه تعالیٰ باندے رسول رالیږل واجب نه دی ﴿غٰفِلُوْنَ﴾ نه مراد هغه ځوك دی چه دَعوت دَ رسولانو ورته نه وی رسیدلے۔

[۱۳۲] یعنی هریودَ پیریانواوانسانانونه که جنت والادی اوکه جهنم والادی دوی دپاره مختلفے مرتبے دی اودَ هرچامرتبه دَ هغه دَ عمل مناسب ده که په دُنیاکښ وی اوکه په اخرت کښ وی۔ او اشاره ده چه مدار دَ جزا اوسزا په عمل باندے دے۔

مِنْۢ بَعْدِكُمْ مَّا يَشَآءُ كَمَآ اَنْشَاَكُمْ مِّنْ ذُرِّيَّةِ قَوْمٍ اٰخَرِيْنَ ﴿١٣٣﴾ اِنَّ مَا تُوْعَدُوْنَ لَاٰتٍ ۙ وَّمَآ اَنْتُمْ
بِمُعْجِزِيْنَ ﴿١٣٤﴾ قُلْ يٰقَوْمِ اعْمَلُوْا عَلٰى مَكَانَتِكُمْ اِنِّيْ عَامِلٌ ۚ فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ۙ مَنْ تَكُوْنُ لَهٗ عَاقِبَةُ
الدَّارِ ۭ اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿١٣٥﴾ وَجَعَلُوْا لِلّٰهِ مِمَّا ذَرَاَ مِنَ الْحَرْثِ وَالْاَنْعَامِ نَصِيْبًا فَقَالُوْا هٰذَا لِلّٰهِ
بِزَعْمِهِمْ وَهٰذَا لِشُرَكَاۗىِٕنَا ۚ فَمَا كَانَ لِشُرَكَاۗىِٕهِمْ فَلَا يَصِلُ اِلَى اللّٰهِ ۚ وَمَا كَانَ لِلّٰهِ فَهُوَ يَصِلُ اِلٰى
شُرَكَاۗىِٕهِمْ ۭ سَاۗءَ مَا يَحْكُمُوْنَ ﴿١٣٦﴾ وَكَذٰلِكَ زَيَّنَ لِكَثِيْرٍ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ قَتْلَ اَوْلَادِهِمْ شُرَكَاۗؤُهُمْ لِيُرْدُوْهُمْ

روستو ستاسونه هغه څوك چه اوغواړي لكه چه پيدا كړي يې تاسو دَ اولاد دَ قوم نورنه(١٣٣) يقيناً هغه چه وعده ئې كيدېشي تاسو سره خامخا راتلونكې دے اونه يې تاسو بچ كيدونكي(١٣٤) اُوايه: اے قومه عمل كوئے په خپله طريقه باندے يقيناً څه عمل كؤونكے يم پس زردے چه تاسو ته به معلومه شي چه څوك دے چه وى به هغه له انجام دَ كور دَ اخرت يقيناً نه شي بچ كيدے ظالمان(١٣٥) او مقرر كوى دوى اللّٰه تعالىٰ لره دَ هغے نه چه پيداكړى دى دَفصلونو او دَځاروونه برخه پس وائى دوى دابرخه دَ اللّٰه تعالىٰ ده په گمان دَ دوى (بغير دَمقدار شرعى نه) او دابرخه دَ مددگارو زمونږ ده پس هغه برخه چه وى دَ دوى دَ مددگارو دپاره پس نه رسى اللّٰه تعالىٰ ته او هغه برخه چه وى دَ اللّٰه تعالىٰ پس هغه رسى مددگارانو دَ دوى ته بده ده هغه فيصله چه دوى ئې كوى (١٣٦) اُودغسے ډولى كړى دى ډيرو مشركانوته وژل دَبچو خپلو (محبت) دَمددگارو دَ دوى دے دپاره چه هلاك كړى دوى

[١٣٣] دايره ورکول دى نه منونكو ته يعنى اللّٰه تعالىٰ بے حاجته رحم والادے ليكن غضب والاهم دے كه اوغواړى نونه منونكى به فناكړى اونورخلق به دَ دوى په ځائے راولى ﴿اِنْ يَّشَاْ﴾ دا ذكرد ضد دَ څيز دے پس دَ هغه نه يعنى دَ رحمت ضد غضب اوعذاب دے چه په اِن يَّشَا اه سره ئې ذكر كوى۔

[١٣٤] دا هم يره دَ عذاب ده نه منونكوته ﴿مَاتُوْعَدُوْنَ﴾ عام دے عذاب دَ دُنيا اوبعث بعد الموت دواړوته شامل دے۔

[١٣٥] دا اعلان برائت دے نه منونكو ته اوسخته زورنه ده ﴿مَكَانَتِكُمْ﴾ مراد دَ دے نه تمكن اوطاقت دے يا مراد ترينه حال او طريقه ده او داسے په سورة هود ١٢١ كښ دى ﴿عَاقِبَةُ الدَّارِ﴾ عاقبت محموده دَ دار اخرت ﴿اِنَّهٗ﴾ دا ذكرد فيصلے دَ فريقينو دے اجمالاً۔

[١٣٦] دَ دے ايت نه تر(١٥٠) پورے دويم باب دے پدے كښ رد دے په رسمونودَ جاهليت باندے په تحليل اوتحريم كښ ﴿لِلّٰهِ﴾ معلومه شوه چه دوى دَ اللّٰه تعالىٰ په نوم صدقه خيرات زكوٰة وركوو۔ ﴿بِزَعْمِهِمْ﴾ په دے كښ اشاره ده چه حصه دَ اللّٰه تعالىٰ كښ دوى دَ قدرشرعى لحاظ نه كوؤپخپل خيال سره به ئې حصه جوړوله۔ اوحصّه دَ شركاؤ اللّٰه تعالىٰ ته نه رسى دَ دے يومطلب دا دے چه نذر دَغيراللّٰه عامو مسكينانوته نه وركوى دويم مطلب دا دے چه نذردَ غيراللّٰه څه دانے وغيره به دَ هغے مال سره شريك شى كوم چه دَ اللّٰه تعالىٰ په نوم وى نوزر ئې ترينه جداكړى دريم داچه كوم شے دَ غيراللّٰه نذر وى نوپه هغے دَ اللّٰه تعالىٰ نوم نه يا دوى۔ اوحصه دَ اللّٰه تعالىٰ شركاؤته رسى دَ دے هم دغه درے مقصده دى خوپه عكس سره۔

وَلِيَلْبِسُوْا عَلَيْهِمْ دِيْنَهُمْ ؕ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ مَا فَعَلُوْهُ فَذَرْهُمْ وَمَا يَفْتَرُوْنَ ﴿۱۳۷﴾ وَقَالُوْا هٰذِهٖۤ اَنْعَامٌ
وَّحَرْثٌ حِجْرٌ ۖ لَّا يَطْعَمُهَاۤ اِلَّا مَنْ نَّشَآءُ بِزَعْمِهِمْ وَاَنْعَامٌ حُرِّمَتْ ظُهُوْرُهَا وَاَنْعَامٌ لَّا يَذْكُرُوْنَ
اسْمَ اللّٰهِ عَلَيْهَا افْتِرَآءً عَلَيْهِ ؕ سَيَجْزِيْهِمْ بِمَا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴿۱۳۸﴾ وَقَالُوْا مَا فِيْ بُطُوْنِ هٰذِهِ
الْاَنْعَامِ خَالِصَةٌ لِّذُكُوْرِنَا وَمُحَرَّمٌ عَلٰۤى اَزْوَاجِنَا ۚ وَاِنْ يَّكُنْ مَّيْتَةً فَهُمْ فِيْهِ شُرَكَآءُ ؕ سَيَجْزِيْهِمْ

او ګډوډ کړی په دوی باندے دین دَ دوی او که غوښتے اللّٰه تعالیٰ نه به وے کړے دوی داکار پس پریګډه دوی سره دَ هغے چه څه دروغ جوړوی(۱۳۷) او دوی وائی دا څاروی او فصل منع دی نه به خوری دا مګر هغه څوك چه مونږ غواړو په ګمان دَ دوی کښ اوڅاروی چه حرام شویدی شاګانے دَ هغے (دپاره دَ سورلئے او بار اوړلو) او څاروی دی چه نه یادوی نوم دَ اللّٰه تعالیٰ په هغے باندے (یوائے) دروغ جوړول دوی په اللّٰه تعالیٰ باندے زردے سزا به ورکړی دوی ته په سبب دَ دے چه دوی دروغ جوړوی (۱۳۸) او دوی وائی هغه څه چه په ګیډو دَ دے څاروو کښ دی (پئے اوبچی) خاص دی نارینو لره او حرام دی په ښځو زمونږ باندے اوکه وی مردار بچے پس دوی په هغے کښ برابر شریك دی زر دے سزابه ورکړی دوی ته

[۱۳۷] دا هم رد دے په نذردَ غیراللّٰه باندے چه اولاد دَغیراللّٰه په نوم منخته کوی اومنجوارنو اوملنګانوته ئے بخی (دا قتل حکمی دے) اوکله دَ غیراللّٰه په نوم اولادهم ذبحه کوی داپه هندواوشیعه ګانوکښ شته اودَ باباګانوپه نوم خپلے لونړه دَهغوی منجورانواونوسوته بخی اوپه نکاح ئے ورکوی داشرك دے اودانکاح فاسد دے﴿شُرَكَآءُ هُمْ﴾مراد دَ دے نه محبت دَمعبودانو باطلودے یا مراد دَ دے نه منجوران اوپیران دی ﴿قَتْلَ اَوْلَادِهِمْ﴾ کښ لونړه یا ځامن ژوندی خخول هم داخل دی ﴿لِيُرْدُوْهُمْ﴾ اشاره ده چه نذردَغیراللّٰه سبب دَ اوردَجهنم دے﴿دِيْنَهُمْ﴾مراد دَ دین نه دین اسلام دے چه خلق پیداشوی دی په هغے باندے یا مراد دَ دے نه دین دَ ابراهیم اواسماعیل علیهماالسلام دے چه مشرکین عرب دَ هغے دعویٰ کوله﴿وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ﴾ مفعول پټ دے یعنی (بچ کول دَ خلقودَ شرك کولونه)۔

[۱۳۸] دا رد دے په تحریماتودَ غیراللّٰه باندے اودَ هغے درے قسمه ئے ذکرکړه ﴿اِلَّا مَنْ نَّشَآءُ﴾ مراد دَ دے نه منجوران دی ﴿هٰذِهٖ﴾ مراد هغه دی کوم چه(۱۳۶)کښ ذکرشول(هذالشرکائنا) یا نورهغه څاروی اوفصلونه چه دوی ئے تعیین اوکړی ﴿حِجْرٌ﴾ په دے لفظ کښ مذکراومؤنث مفرد اوجمع یوشان دی۔ ﴿حُرِّمَتْ ظُهُوْرُهَا﴾ سورلی کول اوبار راوړل چه په هغے باندے منع کړی دی هغه بحیرے سائبے اوحام دی ﴿لَا يَذْكُرُوْنَ﴾ بلکه نوم دَ غیراللّٰه په وخت دَ ذبح کښ ذکرکوی یا مراد دَ ذکراللّٰه نه دَ دین دَکارونودپاره استعمالول دی ﴿اِفْتِرَآءً﴾ دا دَ درے واړه قسمونوسره متعلق دے یعنی اللّٰه تعالیٰ ته په دروغه سره نسبت کوی۔

وَصْفَهُمْ ۭ اِنَّهٗ حَكِيْمٌ عَلِيْمٌ ﴿١٣٩﴾ قَدْ خَسِرَ الَّذِيْنَ قَتَلُوْٓا اَوْلَادَهُمْ سَفَهًۢا بِغَيْرِ عِلْمٍ وَّحَرَّمُوْا مَا
رَزَقَهُمُ اللّٰهُ افْتِرَاۗءً عَلَي اللّٰهِ ۭ قَدْ ضَلُّوْا وَمَا كَانُوْا مُهْتَدِيْنَ ﴿١٤٠﴾ وَهُوَ الَّذِيْٓ اَنْشَاَ جَنّٰتٍ مَّعْرُوْشٰتٍ
وَّغَيْرَ مَعْرُوْشٰتٍ وَّالنَّخْلَ وَالزَّرْعَ مُخْتَلِفًا اُكُلُهٗ وَالزَّيْتُوْنَ وَالرُّمَّانَ مُتَشَابِهًا وَّغَيْرَ مُتَشَابِهٍ ۭ
كُلُوْا مِنْ ثَمَرِهٖٓ اِذَآ اَثْمَرَ وَاٰتُوْا حَقَّهٗ يَوْمَ حَصَادِهٖ ۡ وَلَا تُسْرِفُوْا ۭ اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِيْنَ ﴿١٤١﴾ وَمِنَ

ع ١٦ الرابع

دَغلط بیان دَ دوی یقیناً هغه حکمتونو والا دے پوهه دے په هرڅه (۱۳۹)یقیناً تاوانیان دی هغه کسان چه وژلی دی بچی خپل په کم عقل تیا بغیر دَ دلیل نه اوحرام کړی دی هغه څه چه حلال کړی دی الله تعالیٰ دَوجے دَ دروغ جوړولونه په الله تعالیٰ باندے یقیناً گمراه دی دوی اونه دی دوی هدایت والا (۱٤۰) او الله هغه ذات دے چه پیدا کړیدی باغونه سپَرونو والااوبے دَ سپَرونونه او کجورے اوفصل چه مختلف دی میوے دَهغے اوخونه او انار چه یوشان پانړو والا اونه دی یوشان میوو والا خورئے دَ میؤو دَهغے نه چه کله میوه اوکړی اوورکوئ حق دَالله تعالیٰ په ورځ دَ شوکولو دَ هغے کښ او اسراف مکوئ یقیناً الله تعالیٰ نه خوخوی مشرکان (۱٤۱) (اوپیدا کړی دی) دَ

[۱۳۹] دا هم رد دے په تحریم دَ غیرالله باندے یعنی دَ بعض څاروؤبچی به ژوندی پیدا شول نوهغه به ئے په زنانوحرام گنړل چه پدے سره زنانوته ضرر رسی اوکه مړه به پیداشونوبیابه پکښ هغوی له برخه ورکوله۔ ﴿مَافِيْ بُطُوْنِ﴾ عام دے بچو او پیؤته په دے شرط سره چه ژوندے به پیدا شو ﴿خَالِصَةٌ، وَمُحَرَّمٌ﴾ تادَ تانیث دپاره نه ده دَمبالغے دپاره ده دَ دے وجے نه محرّم مذکر ذکر کړے دے بنا په اصل باندے نو خالصةٌ په معنٰی دَحلال دے سره دَ خصوصیت نه ﴿وَصْفَهُمْ﴾ وصف په معنیٰ دَ بیان کولودے اوجزاء لفظ پټ مراد دے اودَ وصفهم تفصیل په سورۂ نحل (۱۱٦) کښ شته۔

[۱٤۰] دا ایت دَ نذردَ غیرالله اوتحریم دَ غیرالله دواړوسره متعلق دے اودَ هغے درے وجوه ئے ذکرکړی دی۔ سفه، غیرعلم اوافتراء اوپه هغے ئے درے حکمونه مرتب کړیدی۔ خسران، ضلال اوعدم اهتداء خسران خوځکه دے چه اولاد نعمت عظیمه دے اوپه قتل دَ هغے سره لوئے نقصان حاصلیږی هم دَ دُنیا اوهم دَ اخرت اوضلال ځکه دے چه بے دلیله اوبے علمه کارئے کړیدے۔ اوعدم اهتداء ځکه ده چه افتراء ده په الله تعالیٰ باندے۔

[۱٤۱] دا دلیل عقلی دے دپاره دَ رد دَ شرك فعلی اودا شرك په فصلونو اوځاروؤکښ اکثروی نودلیلونه هم دَ دے دواړو قسمونوسره متعلق ذکرکوی ﴿مَعْرُوْشٰتٍ﴾ هغه چه غوړیدلی دی په مخ دَ زمکه لکه خټکے خربوزه وغیره یا دَ انګورېعض قسمونه وغیره ﴿غَيْرَ مَعْرُوْشٰتٍ﴾ چه پخپله پندئے باندے ولاړوی دا خوږیر قسمونه دی ﴿مُخْتَلِفًا اُكُلُهٗ﴾ ضمیر راجع دے صرف زرع ته یا راجع دے نخل اوزرع ته په تاویل دَکلٌّ واحد منهما سره ﴿وَالزَّيْتُوْنَ﴾ دَ دے نه تیل را اوځی ﴿وَالرُّمَّانَ﴾ دا دَ دوائی دپاره اکثراستعمالیږی۔ ﴿مُتَشَابِهًا﴾ حال دے دَ زیتون او رمان نه یا حال دے دَ ټولونه اومراد دا چه دَ یوجنس اونه او بوټی دی لکه کجوره اوپه میوؤکښ اختلاف وی همدا سے په فصل وغیره کښ ﴿كُلُوْا﴾ مراد دَ دے نه اباحت دَ اکل دے یعنی حرام ئے مه ګڼئ ﴿اٰتُوْا حَقَّهٗ يَوْمَ حَصَادِهٖ﴾ ورکوئے حق دَ الله خاص په ورځ دَ لوکولو کښ او دَ لوکولو قیدکښ

الْاَنْعَامِ حَمُوْلَةً وَّ فَرْشًا ؕ كُلُوْا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ وَلَا تَتَّبِعُوْا خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ ؕ اِنَّهٗ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ﴿۱۴۲﴾
ثَمٰنِيَةَ اَزْوَاجٍ ۚ مِنَ الضَّاْنِ اثْنَيْنِ وَمِنَ الْمَعْزِ اثْنَيْنِ ؕ قُلْ ءٰٓالذَّكَرَيْنِ حَرَّمَ اَمِ الْاُنْثَيَيْنِ اَمَّا
اشْتَمَلَتْ عَلَيْهِ اَرْحَامُ الْاُنْثَيَيْنِ ؕ نَبِّئُوْنِيْ بِعِلْمٍ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۱۴۳﴾ وَمِنَ الْاِبِلِ اثْنَيْنِ وَمِنَ
الْبَقَرِ اثْنَيْنِ ؕ قُلْ ءٰٓالذَّكَرَيْنِ حَرَّمَ اَمِ الْاُنْثَيَيْنِ اَمَّا اشْتَمَلَتْ عَلَيْهِ اَرْحَامُ الْاُنْثَيَيْنِ ؕ اَمْ كُنْتُمْ
شُهَدَآءَ اِذْ وَصّٰىكُمُ اللّٰهُ بِهٰذَا ۚ فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا لِّيُضِلَّ النَّاسَ بِغَيْرِ عِلْمٍ ؕ اِنَّ

څاروونه باراورونکی او چیت قد والا خوړئ دَ هغے نه چه حلال کړی دی تاسوله الله تعالیٰ او تابعداری مه کوئ دَ قدمونو دَشیطان یقیناً دے تاسولره دُشمن ښکاره دے (۱۴۲) (پیدا کړی دی) اته جوړئے دَ ګډونه دوه او دَ بیزونه دوه اُوایه آیا دادوه نران (ګډ اوپیس) حرام کړی دی الله تعالیٰ یادوه مادے (ګډه اوبیزه) او کهٔ هغه شے چه مشتمل دی په هغے باندے رحِمونه دَمیندو خبر کړئے ما په دلیل سره که تاسو رشتینی یئ (۱۴۳) اودَ اوښانونه دوه او دَ غوایانونه دوه اوایه آیا دوه نران (اوښ اوغوئے) حرام کړیدی الله تعالیٰ یادوه مادے (اوښه او غوا) یا هغه شے چه مشتمل دی په هغے باندے رحمونه دَ میندو یاوئ تاسو حاضر کله چه حکم در کړو تاسوته الله تعالیٰ په دے سره پس څوك ډیرلوئے ظالم دے دَهغه چانه چه جوړوی په الله تعالیٰ باندے دروغ دے دَ پاره چه ګمراه کړی خلقولره بے دَ علم نه یقیناً

اشاره ده چه هغه فصل اومیوه چه په لاس حاصل شی اومخکښ هلاك شوے نه وی نوپه هغے کښ حق دَ الله تعالیٰ واجب کیږی ﴿وَلَا تُسْرِفُوْا﴾ اسراف نه مراد شرك دے یعنی دا فصلونه اومیوے په نذرد غیرالله سره مه ورکوئے اوتحریم پکښ دَ ځان نه مکوئے ابن جریرد ایاس نه نقل کړیدے هرهغه چه مخالف وی دَ امرد الله تعالیٰ نه نوهغه مسرف دے۔

[۱۴۲] دا بل دلیل دے دپاره دَ رد دَ شرك فعلی اوانشاء لفظ پټ دے ﴿حَمُوْلَةً﴾ هغه څاروی چه بار وربانده اچولے کیږی اودَ زمکے نه اوچت وی اوښان اسونه خچراوخرهٔ وغیره او ﴿فَرْشًا﴾ ګډے بیزے چه بارنشی اوړلے او زمکے ته نیزدے وی یا دَ هغے دَځرمنونه فراشونه جوړیږی ﴿كُلُوْا﴾ دا مطلب دے چه دَ ځان نه تحریم مه کوئے ﴿وَلَا تَتَّبِعُوْا﴾ دا مطلب دے چه دَ غیرالله په نوم ئے مه نذرکوئے۔

[۱۴۳] دا بل دلیل عقلی دے ﴿ثَمٰنِيَةَ﴾ بدل دے دَ حمولة وفرشا نه اوتفصیل په طریقه دَ لف نشرغیرمرتب سره دے ﴿اَزْوَاجٍ﴾ جمع دَ زوج ده هر هغه څیز چه دَ هغه سره دَ هغه دَ جنس نه ملګرے وی نو زوج یوته هم وئیلے شی دلته دا معنیٰ مراد ده۔ اودَ دے سره طلب دے دَ دلیل دَ مشرکانونه حاصل ئے دا دے چه تاسوچه دا بعض څاروی په ځان باندے حرام ګنړئے ایا دَ دے حرمت سبب دَ ذکورت (نارینه والے) دے اوکه انوثت (زنانه والے) دے اوکه په رحم دَ مورکښ زیګیدل دی۔ نوکه اول سبب وی نوبیا ټول نارینه څاروی حرام شول اوکه دویم سبب وی نوبیا ټول مؤنث څاروی حرام شول اوکه دریم سبب وی نوبیا خوټول څاروی نراومادہ حرام شول نوتاسوپکښ فرق ولے کوئے چه بعض حرام ګنړئے اوبعض حلال۔ دا طلب دَ دلیل عقلی وؤلیکن هغه دَ دوی سره نیشته ﴿نَبِّئُوْنِيْ بِعِلْمٍ﴾ دا طلب دَ دلیل نقلی دے ځکه مراد دَ علم نه هغه حکم دے

اللّٰهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿١٤٤﴾ قُلْ لَّآ اَجِدُ فِيْ مَآ اُوْحِيَ اِلَيَّ مُحَرَّمًا عَلٰى طَاعِمٍ يَّطْعَمُهٗٓ اِلَّآ اَنْ
يَّكُوْنَ مَيْتَةً اَوْ دَمًا مَّسْفُوْحًا اَوْ لَحْمَ خِنْزِيْرٍ فَاِنَّهٗ رِجْسٌ اَوْ فِسْقًا اُهِلَّ لِغَيْرِ اللّٰهِ بِهٖ ۚ فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ
بَاغٍ وَّلَا عَادٍ فَاِنَّ رَبَّكَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١٤٥﴾ وَعَلَى الَّذِيْنَ هَادُوْا حَرَّمْنَا كُلَّ ذِيْ ظُفُرٍ ۚ وَمِنَ الْبَقَرِ وَالْغَنَمِ
حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ شُحُوْمَهُمَآ اِلَّا مَا حَمَلَتْ ظُهُوْرُهُمَآ اَوِ الْحَوَايَآ اَوْ مَا اخْتَلَطَ بِعَظْمٍ ۭ ذٰلِكَ جَزَيْنٰهُمْ بِبَغْيِهِمْ ۡ

الله تعالی توفیق نه ورکوی قوم عنادیانوته (١٤٤) اُوایه نه مومم ځه په هغه وحی کښ چه کړے شویده ماته حرام کړیشوی (دَ هغے نه چه تاسوئے حرام کنړئ) په یوخورونکی چه خوری هغے لره مگر چه وی مرداره یاوینه یَولے شوے یاغوښه دَخنزیر پس یقیناً دا پلیت دی یاوی (یوشے) ویستونکے دَ ایمان نه چه آواز شوے وی دَنذر دَغیر الله په هغے باندے پس څوك چه ناچاره شونه ووزیاتے کڅوونکے به بل باندے اونه ډو ډیره خورونکے پس یقیناً رب ستا بخنه کڅوونکے دے رحم کڅوونکے دے (١٤٥) اوپه هغه کسانو باندے چه یهودیان دی حرام کړے دے مونږ هر یونوکونو والا ځاروے (اوښه اوشُتر مرغ اوبطح) او دَغوایانونه اودَګلهو بیزونه حرام کړی دی مونږ په دوی باندے وازړے دَهغوی مگر هغه چه پورته کړیوی شاګانو دَ هغوی یاکُلمُو یاهغه چه ګډه وی دهډوکی سره دا سزا ورکړه مونږ دوی ته په سبب دَ ظلم دَ دوی

چه معلوم وی په وحی سره دَ طرف دَ الله تعالی نه دا معنیٰ دَ علم ده په شرع کښ۔

[١٤٤] دا ایت هم دَ محکمښ ایت پشان دے اول طلب دَ دلیل عقلی بیا په دے لفظ ﴿اَمْ كُنْتُمْ شُهَدَآءَ﴾ سره طلب دَ دلیل نقلی دے یعنی که الله تعالی تاسوته حکم کړے وی اوتاسوحاضر وئے اوریدلے وی تاسو ﴿فَمَنْ اَظْلَمُ﴾ سره زورنه ده هغه مشرك ته چه نورخلق هم شرك ته رابلی لکه عمرو بن لحی بن قمعه خزاعی چه عربوته اول دهٔ شرك راوړے وۀاوشربینی وئیلی دی په دے وعید کښ هرهغه څوك داخل دے چه په دین دَ الله تعالی کښ هغه څیزداخل کنړی کوم چه دَ هغے نه نه وی او ﴿الظّٰلِمِيْنَ﴾ نه همدغه کسان مراد دی۔

[١٤٥] دا هم رد دے په تحریمات دَ غیرالله باندے په دلیل دَ وحی سره روستودَ دلیل عقلی نه چه محکمښ معلومه شوه چه دَ مشرکانودَ تحریم دلیل عقلی اونقلی نیشته نواوس فرمائي چه دَ الله تعالی په وحی کښ هم نیشته ﴿مُحَرَّمًا﴾ ابن کثیر وئیلے دی چه مراد هغه دی چه مشرکانوپه ځان باندے حرام کړے وی ﴿اِلَّآ اَنْ يَّكُوْنَ﴾ په دے کښ مقصد حصراضافی دے حقیقی نه دے ځکه چه حرام مطعومات دَ دے نه علاوه نورهم شته نومطلب دا شوچه په تاسو دغه حرام نه دی بلکه حرام خو دا اشیاء دی نودا ولے په ځان حلال کنړئے۔ دَ دے ځلورو ذکرد دے وجے نه شوے دے چه دا محرّمات دی په ټولوسماوی دینونوکښ دَ خوراك دَځیزونونه ﴿مَسْفُوْحًا﴾ پدے دَ منجمد وینے نه احتراز اوشو لکه کبد اوطحان او دارنګ هغه وینه چه روستو دَ بهیدلونه په غوخه پورے انختلے وی دا ابن کثیر ذکرکړے ده ﴿فَاِنَّهٗ رِجْسٌ﴾ دا ضمیرخنزیرته راجع دے نومعلومه شوه ذات دَ خنزیرپلیت دے اګر چه ژوندے وی۔

وَ اِنَّا لَصٰدِقُوْنَ ﴿۱۴۶﴾ فَاِنْ كَذَّبُوْكَ فَقُلْ رَّبُّكُمْ ذُوْ رَحْمَةٍ وَّاسِعَةٍ ۚ وَلَا يُرَدُّ بَاْسُهٗ عَنِ الْقَوْمِ
الْمُجْرِمِيْنَ ﴿۱۴۷﴾ سَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا لَوْ شَآءَ اللّٰهُ مَاۤ اَشْرَكْنَا وَلَاۤ اٰبَآؤُنَا وَلَا حَرَّمْنَا مِنْ شَيْءٍ ؕ
كَذٰلِكَ كَذَّبَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ حَتّٰى ذَاقُوْا بَاْسَنَا ؕ قُلْ هَلْ عِنْدَكُمْ مِّنْ عِلْمٍ فَتُخْرِجُوْهُ لَنَا ؕ اِنْ
تَتَّبِعُوْنَ اِلَّا الظَّنَّ وَاِنْ اَنْتُمْ اِلَّا تَخْرُصُوْنَ ﴿۱۴۸﴾ قُلْ فَلِلّٰهِ الْحُجَّةُ الْبَالِغَةُ ۚ فَلَوْ شَآءَ لَهَدٰىكُمْ

اویقیناً مونږ خامخا رشتینی یو(۱٤٦) پس که دوی دروغژن وائی تاته پس اُوایه رب ستاسو فراخه رحمت والادے اونه واپس کیدے شی عذاب دَهغه دَ قوم مجرمانونه (۱٤۷) خامخا وائی مشرکان که خوخه وے دَ اللّٰه تعالیٰ نوشرك به نه وے کړے مونږ اونه پلارانو زمونږ اونه به حرام کړے وے مونږ څه شے دغسے نسبت دَ دروغو کړے ژو(توحید ته) هغه کسانو چه مخکښے دَ دوی نه ژو تردے چه اوځکو دوی عذاب زمونږ اُوایه آیاتاسو سره څه دلیل شته پس راښکاره کړئے مونږ ته تابعداری نه کوئ تاسو مګر دَ ګمان اونه یئ تاسو مګر په توك کارونه کوئے(۱٤۸) اُوایه پس خاص اللّٰه تعالیٰ لره دلیل پوره دے پس که غوختے اللّٰه تعالیٰ خامخا هدایت به ئے کړے وے تاسو

[۱٤٦] دا جواب دے دَ یوسوال چه اوښ او وازږے هم اللّٰه تعالیٰ حرام کړی دی نوتاسوئے ولے حلال ګنړئے جواب دا دے چه دا خوصرف په یهودیانوباندے دَ هغوی دَ ظلم دَ وجے نه اللّٰه تعالیٰ حرام کړیدی په بل چا باندے نه دی حرام شوی۔ دَ یهودیانوخه مظالم په سورة نساء ۱٦۰ کښ ذکرکړے شوی وؤیپا هم دَ هغوی ظلم داوؤچه دَوازږونه به ئیے ډل (غورې) جورول او هغه به ئیے خرڅول اوهغه قیمت دَ هغے به ئیے حلال ګنړلو رسول اللّٰهﷺ فرمائیلی دی چه دَ دوی پشان حیلے مه کوئے چه دَ اللّٰه تعالیٰ حرام په ځان باندے په حیلوسره حلالوئے اودا مرض په دے اُمت کښ ډیرشوے دے ﴿لَصٰدِقُوْنَ﴾ په دے کښ اشاره ده چه یهودو وئیل چه دَ اوښ غوخه په دین ابراهیمعليه السلام کښ حرام وه نودا دروغ وائي۔

[۱٤۷] په دے ایت کښ تسلی ده نبیﷺ ته چه که دوی ستا تکذیب کوی نوصبرکوه اګرچه اللّٰه تعالیٰ فراخ رحمت والادے چه عذاب روستوکوی په مهلت ورکولوسره په مؤمنانو باندے لیکن قهروغضب والاهم دے په مجرمانوباندے ﴿وَلَا يُرَدُّ﴾ دا عطف دَ ضد دے په بل ضد باندے۔

[۱٤۸] دا رد دے په دلیل دَ مشرکانوباندے هغوی وئیل چه مونږشرك اعتقادی یا عملی چه کوؤنوپدے اللّٰه تعالیٰ خوښ (رضا) دے ځکه چه هرڅه دَ هغه په خوښے سره دی دا د دوی عقیده وه چه کل شيءٍ بمشیة اللّٰه یائے دا الزاماً وئیل مؤمنانوته چه تاسو وایئ چه هرڅه دَ اللّٰه تعالیٰ په مشیت سره۔دی اول جواب دا دے ﴿كَذٰلِكَ كَذَّبَ﴾ یعنی که په دے اللّٰه تعالیٰ رضاوے نومخکښ تکذیب کوونکوته ئیے عذاب ولے ورکړے دے۔ دویم جواب په ﴿قُلْ هَلْ عِنْدَ كُمْ﴾ چه دلیل یقینی پدے باندے پیش کړئے اوهغه نیشته دوی سره ۔ دریم جواب په دے قول سره ﴿اِنْ تَتَّبِعُوْنَ﴾ چه دا دَ دوی دَګمان اودَ توك خبرے دی اوهغه خوڅه دلیل نه دے ﴿سَيَقُوْلُ﴾ دا پیشګوئی ده اوسین دپاره دَاستقبال دے او وقوع دَ هغے په سورة نحل او زخرف کښ ذکرده یا سین دپاره دَتاکید دے﴿كَذَّبَ﴾ نسبت دَتکذیب په نورواحکاموشرعیوکښ مراد دے یا دا چه ﴿لَوْشَآءَ﴾ مشرکانوپه طریقه دَ تکذیب سره وئیلی دی۔

بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ حَتّٰى يَبْلُغَ اَشُدَّهٗ ۚ وَاَوْفُوا الْكَيْلَ وَالْمِيْزَانَ بِالْقِسْطِ ۚ لَا نُكَلِّفُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا ۚ وَاِذَا قُلْتُمْ فَاعْدِلُوْا وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبٰى ۚ وَبِعَهْدِ اللّٰهِ اَوْفُوْا ۭ ذٰلِكُمْ وَصّٰىكُمْ بِهٖ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ ﴿١٥٢﴾ وَاَنَّ هٰذَا صِرَاطِيْ مُسْتَقِيْمًا فَاتَّبِعُوْهُ ۚ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَنْ سَبِيْلِهٖ ۭ ذٰلِكُمْ وَصّٰىكُمْ بِهٖ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿١٥٣﴾ ثُمَّ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ تَمَامًا عَلَى الَّذِيْٓ اَحْسَنَ وَتَفْصِيْلًا

په هغه طریقه چه هغه خائسته وی (اوساتنه کوئ دَهغه دَ مال) تر هغے چه اورسی ځوانئے ته اوپوره کوئ پیمانه اوتله په انصاف سره تکلیف نه ورکوو مونږ هیڅ چاته مګر په قدر دَوس دَهغه اوکله چه وینا کوئ پس انصاف کوئ اګر چه وی(وینا کړے شوے) خپلوان اولوظ دَ اللّٰه تعالیٰ پوره کوئے داحکم درکوی تاسو ته په دے سره دپاره دَ دے چه یاد اوسا ئے (۱۵۲)او(پوهه شئے) چه دا قرآن لارښما ده برابر پس تابعداری کوئ دَ دهٔ اومه تابع کیږئ دَ نورو لارو پس ګډوډ به کړی تاسو دَ لارے دَهغه نه داحکم درکوی تاسوته دے دپاره چه متقیان شئے(۱۵۳) بیا (واورئے) چه ورکړیدے مونږ موسیٰ(علیه السلام) ته کتاب (مخکښے دَ قرآن نه) دپاره دَپوره کولو دَ نعمت په هغه چاچه نیك عمله دے او تفصیل

نودَ هغے نه خلاف کول حرام دی دَ حَرَّمَ دَ لاندے هغه ئیے ذکرکړی بیا دا کارونه کوم چه په دے ایت کښ ذکرشوی دی په دے باندے ټول عقل والاپوهیږی چه دا قبیح دی ﴿وَلَا تَقْتُلُوْا﴾ دا قتل درے قسمه دے اول قتل حقیقی لکه چه مشرکانودَ جاهلیت کښ طریقه ده دویم قتل په طریقه دَ اسقاط حمل اوضبط تولید اومنصوبه بندی۔ دریم قتل حکمی یعنی دَ دین دَ علم نه محرومه کول اودَ دُنیا په علمونواوکارونوکښ مشغوله کول دپاره دَ رزق ګټلواوپه دے ایت کښ منع ده دَ غریبانوخلقوچه دَ خپلے روزئ دَ غم دَ وجے نه ئے بچی قتل کول اوسورة بنی اسرائیل کښ منع ده دَ مالدارو خلقوچه بچی ئیے دَ دے وجے نه وژل چه دوی به روزی دَ کوم ځائے نه خوری دَ دے وجے نه دلته ﴿مِنْ اِمْلَاقٍ﴾ وئیلے دے چه فقرفی الحال موجود وی اوسورة اسراء کښ خشیة املاق وئیلے دے چه مالدار وی خودَ فقیرئے دَ راتللونه یره کوی اوهرکله چه دَ فقیرئے په وخت انسان اول دَ ځان فکرکوی نواول ئیے دَ پلارانوذکراوکړوپه ﴿نَرْزُقُكُمْ﴾ سره اودَ مالدارئیے په وخت کښ دَ اولاد ذکرکوی نوهلته ئیے هُمْ مخکښ راوړے دے ﴿وَبِالْوَالِدَيْنِ﴾ اشاره ده چه حق دَ والدینوصرف ترك اسائت نه دے بلکه احسان ورسره لازم دے ﴿الْفَوَاحِشَ﴾ هغه ګناهونه چه دَ بے حیائے سره تعلق لری اوعقل ئیے بدګنړی ﴿بِالْحَقِّ﴾ مرتدکیدل اوقصاص او زنا روستو دَ واده نه په دے سره قتل جائز کیږی ﴿وَصّٰىكُمْ﴾ وصیت دَ اللّٰه تعالیٰ تاکیدی حکم وی چه نه منسوخ کیږی۔

[۱۵۲] داکارونه مشرکانو هم منل چه دا ښه اخلاق دی لیکن بیا به ئیے دَ هغے خلاف کوؤنوځکه ورته اوفرمائیل ﴿لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ﴾ یعنی دَ دے کارونوخائیست مه هیروئے ﴿لَا نُكَلِّفُ نَفْسًا﴾ دا جمله معترضه ده چه پدے احکاموباندے عمل کول ستا دَ طاقت نه بهرنه دی نومخالفت ئیے مهٔ کوئے یا په دے کښ تسلی ده یعنی خپل وسع صرف کوئے اودَ وسع نه چه بهرشی نوهغه اللّٰه تعالیٰ معاف کوی ﴿اِذَا قُلْتُمْ﴾ قول عام دے که په فیصله کولوکښ وی یا شهادت یا دعوت اوتبلیغ وی ﴿فَاعْدِلُوْا﴾ عدل په معنیٰ دَ حق او رشتیاوئیل دی۔

[۱۵۳] دے ایت کښ یوامراویونهی ده ﴿صِرَاطِيْ مُسْتَقِيْمًا﴾ نه مراد قرآن (اوسنت دے) ﴿السُّبُلَ﴾ نه

اَجْمَعِيْنَ ﴿١٤٩﴾ قُلْ هَلُمَّ شُهَدَآءَكُمُ الَّذِيْنَ يَشْهَدُوْنَ اَنَّ اللّٰهَ حَرَّمَ هٰذَا ۚ فَاِنْ شَهِدُوْا فَلَا تَشْهَدْ مَعَهُمْ ۚ
وَلَا تَتَّبِعْ اَهْوَآءَ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَالَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ وَهُمْ بِرَبِّهِمْ يَعْدِلُوْنَ ﴿١٥٠﴾ قُلْ
تَعَالَوْا اَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ عَلَيْكُمْ اَلَّا تُشْرِكُوْا بِهٖ شَيْـًٔا وَّبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا ۚ وَلَا تَقْتُلُوْٓا اَوْلَادَكُمْ
مِّنْ اِمْلَاقٍ ؕ نَحْنُ نَرْزُقُكُمْ وَاِيَّاهُمْ ۚ وَلَا تَقْرَبُوا الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ ۚ وَلَا تَقْتُلُوا
النَّفْسَ الَّتِيْ حَرَّمَ اللّٰهُ اِلَّا بِالْحَقِّ ؕ ذٰلِكُمْ وَصّٰىكُمْ بِهٖ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿١٥١﴾ وَلَا تَقْرَبُوْا مَالَ الْيَتِيْمِ اِلَّا

ع ١٥

ټولو ته (١٤٩) اُوایه راولئے علماء خپل هغه کسان چه بیشکه بیان کړی چه اللّٰه تعالیٰ حرام کړی دی دا پس که دوی بیان اوکړو(بے دلیله) پس ته ملګرتیا مه کوه د دوی سره اومه تابع کیږه دَ خواهشاتو دَهغه کسانو چه دروغژن ګڼړی آیتونه زمونږ اوهغه کسان چه ایمان نه لری په آخرت باندے او دوی دَخپل رب سره نور خلق برابر ګڼړی(١٥٠) اُوایه: راشئ چه بیان کړم هغه شے چه حرام کړیدے رب ستاسو په تاسو باندے چه شریك مه ګڼړئ دَهغه سره هیڅ شے اونیکی کوئ دَ مور اوپلار سره نیکی کول اومه وژنئ بچی خپل دَ وجے دَ لوګے نه مونږ رزق درکوو تاسوته اودوی ته اومه نزدے کیږئ بدکارونوته هغه چه ښکاره وی دَ دے نه اوهغه چه پټ وی اومهٔ وژنئے هغه نفس چه حرام کړے دے اللّٰه تعالیٰ مګر په جرم شرعی سره داپوخ حکم درکوی تاسوته دپاره دَ دے چه دَعقل نه کار واخلئے (١٥١) اومه نزدے کیږئ مال دَیتیم ته مګر

[١٤٩] دا بیان دَ دلیل یقینی دے په توحید باندے چه هغه کتابونه نازلول اورسولان رالیږل دی ﴿اَلْبَالِغَةُ﴾ چه دَ صدق اوعربئے اوفصاحت بلاغت انتهاء ته رسیدلے وی دَربیع بن انس نه روایت دے چه هغه چاسره هیڅ حجت نیشته (چه نافرمانی دَ اللّٰه تعالیٰ اوشرك کوی) په اللّٰه تعالیٰ باندے بلکه اللّٰه تعالیٰ حجت بالغه دے په بندګانوباندے۔ لیکن هدایت په اختیاردَاللّٰه تعالیٰ کښ دے۔

[١٥٠] دا طلب دَ دلیل دے دَ دوی دَ علماؤ نه ﴿هٰذَا﴾ په دے کښ اشاره ده هغه ته چه ذکردے په (١٣٨، ١٣٩) کښ﴿اَلَّذِيْنَ كَذَّبُوْا﴾ دا درے اصول دَکفردی تکذیب دَ ایاتونو، انکارد قیامت اوشرك کول اودَ دوی دین په خواهشاتوباندے بناوی ﴿فَاِنْ شَهِدُوْا﴾ نه مراد دا دے که دوی بیان دَ دے دَ ځان نه بے دلیله اوکړی نوته ورسره ملګرتیا مکوه ځکه چه دَ خواهشاتوتابعداری کول منع دی۔

[١٥١] دَ دے ایت نه تر اخره پورے دریم باب دے دَ دے حصے نه په دے کښ ذکرد شپږحراماواوپنځه حکمونه دی بیا دلیل نقلی دَکتاب دَ موسیٰ علیه السلام نه بیا ترغیب قرآن ته دپاره دَ دفع کولودَ عذرونو او اخرکښ بیان دَ پیغمبردے په رد دَ شرك کښ او اختتام په ترغیب سره دے ﴿قُلْ تَعَالَوْا﴾ یعنی دے خلقوته اووایه چه تاسو کوم ځیزونه په ځان حرام کړی دی هغه حرام نه دی بلکه دوی ته دَ اللّٰه تعالیٰ محرمات بیان کړے اوقرطبی وئیلی دی چه په ټولوعلماؤباندے دَ دے محرماتوبیان کول لازم دی اوتعالواکښ اشاره ده چه دا منل سبب دَ علواودَ رفع دے اوابن ابی حاتم مرفوع روایت ذکرکړے دے چه رسول اللّٰه ﷺ په دے درے ایاتونوباندے دَصحابونه بیعت اخستلو﴿ مَاحَرَّمَ رَبُّكُمْ﴾ په دے کښ کوم پنځه چه اوامرذکرشویدی

لِّكُلِّ شَيْءٍ وَّهُدًى وَّرَحْمَةً لَّعَلَّهُمْ بِلِقَآءِ رَبِّهِمْ يُؤْمِنُوْنَ ﴿١٥٤﴾ وَهٰذَا كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ مُبٰرَكٌ
فَاتَّبِعُوْهُ وَاتَّقُوْا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴿١٥٥﴾ اَنْ تَقُوْلُوْٓا اِنَّمَآ اُنْزِلَ الْكِتٰبُ عَلٰى طَآئِفَتَيْنِ مِنْ قَبْلِنَا
وَاِنْ كُنَّا عَنْ دِرَاسَتِهِمْ لَغٰفِلِيْنَ ﴿١٥٦﴾ اَوْ تَقُوْلُوْا لَوْ اَنَّآ اُنْزِلَ عَلَيْنَا الْكِتٰبُ لَكُنَّآ اَهْدٰى مِنْهُمْ فَقَدْ
جَآءَكُمْ بَيِّنَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَهُدًى وَّرَحْمَةٌ فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ كَذَّبَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَصَدَفَ عَنْهَا

دَ هر ضروری خبرے دَ دین او هدایت دے او رحمت دے دپاره دَ دے چه په ملاقات دَ رب خپل ایمان لری (١٥٤) او دا کتاب نازل کړے دے مونږ برکت والادے پس تابعداری کوئ دَ دهٔ او اویریکئ دے دپاره چه رحم اوکړے شی په تاسو باندے (١٥٥) (دے دپاره) چه اونه وائے تاسو یقیناً نازل کړے شوی دی کتابونه په د وو ډلو باندے مخکښے زمونږنه اویقیناً ؤو مونږه دَ لوستلو دَ دوی نه بے خبره(١٥٦) یاداونه وایئ چه کهٔ نازل کړے شوے وے په مونږ باندے کتاب خامخا وے به مونږ ښه لار موندونکی دَ دوی نه پس یقیناً راغلے دے تاسوته واضح بیان دَطرف دَ رب ستاسونه او هدایت اورحمت پس څوك ډیر لوئے ظالم دے دَهغه چانه چه دروغژن ګنړی آیتونه دَ اللّٰه تعالٰی اومخ ګرځوی دَ هغے نه

مرادهغه ټولے طریقے اونظر ئیے اومذهبونه دی چه دَ قرآن اوسنت نه خلاف دی یهودیت، نصرانیت، مرزائیت، رافضیت اوتمام بدعات رواجونه په دے کښ داخل دی اودَ قرآن اوسنت اتباع سره تقویٰ حاصلیږی ځکه ئیے ﴿تَتَّقُوْنَ﴾ اوفرمائیل او ﴿هٰذَا﴾ اشاره ده هغه مضمون ته چه ذکرشو پدے سورت کښ یا په قرآن کښ۔

[١٥٤] دا دلیل نقلی دَکتاب دَ موسیٰ علیه السلام نه دے چه په هغے کښ هم دا اوامراونواهی ذکردی ﴿ثُمَّ﴾ دپاره دترتیب دَ اخبارودے یعنی ثم اخبرکم ﴿الَّذِیْٓ اَحْسَنَ﴾ نه مراد په بنی اسرائیلو کښ محسنین کسان دی یا موسیٰ علیه السلام مراد دے اودا کتاب تورات دَ هغوی دپاره پوره حجت وؤاوپدوی باندے پوره احسان وؤدَ اللّٰه تعالٰی دَ طرف نه یا مراد دَ﴿الَّذِیْٓ اَحْسَنَ﴾ نه هغه طریقه ده چه خائسته وی﴿تَمَامًا﴾ په معنیٰ دَ تاما کاملا دے پوره کتاب په هغه وجه اوطریقه سره چه خائسته وی ﴿لَعَلَّهُمْ بِلِقَآءِ رَبِّهِمْ﴾ اشاره ده چه کتاب دَ اللّٰه تعالٰی سره تعلق ساتل سبب دَ پوخ والی دَ ایمان دے په قیامت باندے۔

[١٥٥] دا ترغیب دے قرآن ته په ذکرد دوه صفاتودَکتاب اودوه اوامراویوحکمت ﴿مُبٰرَكٌ﴾ دَ دے سورت ٩٢ کښ دَ هغے تشریح ده ﴿وَاتَّقُوْا﴾ ځان بچ کړئ دَ مخالفت دَکتاب اللّٰه نه۔

[١٥٦] دا دفع دَاول عذرده۔ دوه ډلے یهودیان اونصاریٰ دی چه هغوی ته تورات اوانجیل نازل شوے وؤاو مونږدَ هغوی دَ لوستلونه غافل وؤیودا چه هغه عجمی ژبه وه سریانی یا عبرانی اوعرب په هغے باندے نه پوهیدل دویم داچه هغوی به هغه پټول اوبیان به ئیے عاموخلقوته نه کوؤ۔

سَنَجْزِي الَّذِيْنَ يَصْدِفُوْنَ عَنْ اٰيٰتِنَا سُوْٓءَ الْعَذَابِ بِمَا كَانُوْا يَصْدِفُوْنَ ﴿١٥٧﴾ هَلْ يَنْظُرُوْنَ اِلَّآ
اَنْ تَاْتِيَهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ اَوْ يَاْتِيَ رَبُّكَ اَوْ يَاْتِيَ بَعْضُ اٰيٰتِ رَبِّكَ ؕ يَوْمَ يَاْتِيْ بَعْضُ اٰيٰتِ رَبِّكَ لَا يَنْفَعُ نَفْسًا
اِيْمَانُهَا لَمْ تَكُنْ اٰمَنَتْ مِنْ قَبْلُ اَوْ كَسَبَتْ فِيْٓ اِيْمَانِهَا خَيْرًا ؕ قُلِ انْتَظِرُوْٓا اِنَّا مُنْتَظِرُوْنَ ﴿١٥٨﴾
اِنَّ الَّذِيْنَ فَرَّقُوْا دِيْنَهُمْ وَ كَانُوْا شِيَعًا لَّسْتَ مِنْهُمْ فِيْ شَيْءٍ ؕ اِنَّمَآ اَمْرُهُمْ اِلَى اللّٰهِ ثُمَّ

زردے سزابه ورکړو هغه کسانوته چه مخ ګرځوی دَ آیتونو زمونږ نه بد عذاب په سبب دَ دے چه دوی مخ ګرځوی(۱۵۷) انتظار نه کوی دوی مګر دَ دے چه راشی دوی ته ملائك (دَ مرګ) یاراشی رب ستا (دَ خپل شان لائق) یاراشی بعضے (دَ عذاب) نښے دَ رب ستا په کومه روز چه راشی بعضے نښے دَ رب ستا نفع به نهٔ ورکوی هیڅ نفس ته ایمان راوړل دَ هغه چه ایمان ئے نه وی راوړے مخکښے دَ دے نه یائے نه وی کړے په حال دَ ایمان کښ نیکی ته ورته اُوایه انتظار کوئے مونږهم انتظارکؤونکی یو (۱۵۸) یقیناً هغه کسان چه ټکړے کړے دے دین خپل اودوی ډلے دی مختلفے نه ئیے ته دَ دوی سره په هیڅ تعلق لرلو کښ یقیناً معامله دَ دوی اللّٰه تعالیٰ ته سپارلے شویده بیابه

[۱۵۷] دا دفع دَ دویم عذرده داسے دَ سورة فاطر(٤٢) کښ هم دی او ﴿نَقُوْلُوْا﴾ نه مخکښ کراهیة لفظ په نیز دَ بصریانواولټلا په نیزدَ کوفیانوپټ دے ﴿لَكُنَّا اَهْدٰى مِنْهُمْ﴾ دا دعویٰ دَعربوپه دے وجه سره ده چه هغوی ځان کښ ډیرعقل اوتیزذهن اوپوره فکراو انابت ګڼری ﴿وَرَحْمَةٌ﴾ نه روستوو کذبتم جمله پټه ده ﴿وَصَدَفَ عَنْهَا﴾ لازمی اومتعدی دواړه راتلے شی لیکن ابن کثیردلته متعدی معنیٰ غوره کړے ده یعنی (نورخلق منع کوی) اوبیا زورنه ده اعراض کوونکوته دَ قرآن نه اودا سبب دَ عذاب دے دَ دے وجے نه په دے باندے بیا بیا تصریح کړے ده۔

[۱۵۸] دا یره دَ عذاب دُنیوی ده تکذیب اواعراض کوونکودَ قرآن ته یعنی دوی ته دلیلونه بیان شول اوقرآن هم دوی ته راغے لیکن دوی نه منی بلکه انتظارکوی دَ عذاب اودَ مرګ چه کله راشی بیا به ایمان راوړی لیکن هغه وخت ایمان نه قبلیږی ﴿يَاْتِيَ رَبُّكَ﴾ دا دَ متشابهاتونه دے په ظاهر باندے ایمان دے بغیرد تاویل اوتحریف او بغیرد تمثیل او تشبیه نه او په حقیقت دَکیفیت ئے اللّٰه تعالیٰ پوهیږی ﴿بَعْضُ اٰيٰتِ رَبِّكَ﴾ دَ دے نه مراد وخت دَ غرغرے دَ زنکدن دے اونمرختل دی دَ مغرب نه اوپه دے دواړه وختونو کښ توبه نه قبلیږی اوایمان راوړل هم نه قبلیږی ﴿اَوْ كَسَبَتْ فِيْٓ اِيْمَانِهَا خَيْرًا﴾ یومعنیٰ دا ده چه فائده به نه ورکوی یونفس ته عمل دَ خیر(یعنی توبه کول) چه نه ئیے وی کړے په حال دَ ایمان کښ خیریعنی توبه، تقدیردَ عبارت به داسے وی اونفسا لاینفعها عمل الخیرلم تکن کسبت فی ایمانها خیرا۔ دا ابن کثیر وئیلے دی۔ دویمه معنیٰ داده چه فائده نه ورکوی ایمان بالکل کله چه ایمان ئیے نه وی راوړے مخکښ دَ دے نه یا ایمان به فائده کامله نه ورکوی کله چه نه وی کړے په حال دَ ایمان کښ نیك عمل، کامله فائده دا ده چه بغیردَ عذاب نه جنت ته داخل شی۔ نوپدے توجیه سره په ایت کښ عموم دَ نفی دے چه عدم دَ نفعے دپاره مجموعه عدم دَ امرینو شرط کړے دے اودَ مفهوم مخالف نه معلومه شوه چه دَ نفعے دپاره مجموعه عدم دَ امرینوشرط کړے دے۔ اودا دواړه توجیه دپاره دَ تردید دَ قول دَ معتزلودی هغوی وائي چه دویمے جملے نه

يُنَبِّئُهُمْ بِمَا كَانُوا يَفْعَلُونَ ﴿١٥٩﴾ مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا ۖ وَمَنْ جَاءَ بِالسَّيِّئَةِ فَلَا
يُجْزَىٰ إِلَّا مِثْلَهَا وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿١٦٠﴾ قُلْ إِنَّنِي هَدَانِي رَبِّي إِلَىٰ صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ ۚ دِينًا قِيَمًا
مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا ۚ وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿١٦١﴾ قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ

خبر ورکړی دوی له په هغه کارونو چه دوی ئیے کوی (۱۵۹) څوك چه راغلے په نیك عمل سره پس دهٔ لره لس چنده ثواب دَ هغے دے او څوك چه راغلے په بد عمل سره پس سزا به نه ورکیږی مګر دَ هغے پشان اوپه دوی به هیڅ ظلم نهٔ کیږی(۱۶۰) اُوایه یقیناً رسولے یم ځه رب ځما نیغے لارے ته چه دین پوخ دے ملت دَ ابراهیم(علیه السلام) دے چه کلك ووپه توحید باندے اونه ؤو دے دَ مشرکانونه (۱۶۱) اُوایه: یقیناً مونځ ځما اومالی عبادت ځما اوژوند ځما اومرګ ځما خاص اللّٰه تعالیٰ لره دی

معلومه شوه چه چاپه حال دَ ایمان کښ عمل دَخیرنه وی کړے نودغه ایمان ورته فائده نه ورکوی یعنی په اُور کښ به همیشه وی نودا دلیل دے چه مرتکب دَکبیره ګناه به په اُور کښ همیشه وی اودا قول دَ دوی په نورودلیلونوشرعیو سره مردود اوباطل دے نودَ دے ایت چه مخکښ دوه توجیهاتو کښ یوه اوکړے شی نواعتراض دَ معتزلونه واردیږی۔

[۱۵۹] دا زورنه ده هغه چا ته چه قرآن اوسنت ئیے پریښود او مختلفے ډلے شوے اوپه حدیث دَ عائیشه رضی اللّٰه عنها کښ دی چه دا دَ دے اُمت بدعتیان دی خودَ دے حدیث رفع ثابت نه ده (ابن کثیر)۔ ﴿فَرَّقُوا﴾ پخپله معنیٰ دے یعنی دین ئیے ټوټے کړے دے اوهریو ټوټے ته ئیے پوره دین وئیلے دے یا فَرَّقُوا په معنیٰ دَ فارقوا سره دے لکه چه بل قرائت کښ داسے وارد دی یعنی دَ دین اسلام نه جدا شوی دی اودا وصف دَ تفرق اودَ تفریق په یهودو اونصاریٰ کښ موجود دے لکه چه سورة بینه(۳) اوسورة نساء (۱۵۰)کښ دی لیکن حکم دَ ایت عام دے۔ اوتفرق دَ عقیدے اودَ اعمالو اول وی بیا روستومختلفے ډلے اوجماعتونه جوړشی چه دَ یوبل سره عداوت اودُشمنی اوتعصب کوی دَ دے وجے نه فرقواپسے وکانوا شیعاً ذکرکړے دے او داسے په سورة روم (۳۲)کښ دی ﴿لَسْتَ مِنْهُمْ﴾ یعنی تهٔ دَ دوی سره په هیڅ حال کښ تعلق نه لرے اوستانه دَ دوی په باره کښ هیڅ تپوس نشی کیدلے۔

[۱۶۰] دا تفصیل دَ جزاء اُخروی دے یعنی ډلوته اعتبارنیشته بلکه اعتبارحسنه اوسیئه ته دے۔ ﴿عَشْرُ أَمْثَالِهَا﴾ دا ذکرَ ادنیٰ ثواب دے اودَ دے نه په بره مقدارمعلوم نه دے۔ سوال: امثالها جمع دَ مذکر ده نوپکار دا وؤچه عشره په تانیث سره ذکر وے؟ جواب: په دے کښ حسنات لفظ پټ مراد دے یعنی عشرحسنات امثالها یعنی یوه نیکی داسے ده لکه چه لس نیکئی اوکړی او دَ هرے نیکئی یوثواب دے نولس ثوابونه شول ﴿بِالْحَسَنَةِ﴾ هغه عمل دے چه په عقیده دَ توحید اوپه طریقه دَ سنت باندے بنا وی اوسیئه دَ دے خلاف دے۔

[۱۶۱] دابیان تفصیلی دَ نبی ﷺ دے دا دلیل وحی دے اوځلورم قسم دے دَ طریقودَ تعلیم چه بیان دَ دین حقه دے۔ په دے سورت کښ چه بیان اوشونودا (۱) صراط مستقیم دے۔ (۲) دین قیم دے (۳) ملّت ابراهیمیه دے ﴿هَدَانِي﴾ په دے کښ دلیلونونقلیو، وحییو او طرق تعلیم ته اشاره ده چه په دے سورت کښ تیر

رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٦٢﴾ لَا شَرِيْكَ لَهٗ ۚ وَبِذٰلِكَ اُمِرْتُ وَاَنَا اَوَّلُ الْمُسْلِمِيْنَ ﴿١٦٣﴾ قُلْ اَغَيْرَ اللّٰهِ اَبْغِيْ رَبًّا
وَّهُوَ رَبُّ كُلِّ شَيْءٍ ۭ وَلَا تَكْسِبُ كُلُّ نَفْسٍ اِلَّا عَلَيْهَا ۚ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰى ۚ ثُمَّ اِلٰى رَبِّكُمْ
مَّرْجِعُكُمْ فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ فِيْهِ تَخْتَلِفُوْنَ ﴿١٦٤﴾ وَهُوَ الَّذِيْ جَعَلَكُمْ خَلٰۗىِٕفَ الْاَرْضِ وَرَفَعَ بَعْضَكُمْ

چه رب دَ ټول عالم دے (١٦٢) نیشته هیڅ برخے والا دَ هغه اوپه دے سره حکم کړے شویدے ماته اوځه اول دَ توحید والونه یم (١٦٣) ته اُوایه: آیا سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ ځه نه اولټوم بل رب اوهغه رب دَهرځیز دے اوعمل نه کوی هر نفس (بدعمل) مګر ضرر به ئے په هغه باندے وی اونه شی پورته کولے یوګنهګار پیټے دَبل چا بیا ستاسو رب ته ور ګر ځیدل ستاسو دی پس خبر به درکړی تاسو ته په هغه ځه چه تاسو په هغے کښ اختلاف کؤو(١٦٤) اوخاص اللّٰه تعالیٰ هغه ذات دے چه اوکړځولئ ئے تاسو آباد (یوبل پسے) په زمکه کښ اوپورته کړی دی بعضے ستاسو

شویدی ﴿دِيْنًا قِيَمًا﴾ په دے کښ عقلی دلیلونوته اشاره ده۔ دِیناً بدل دے دَ محل دَ صراط مستقیم نه یا اتّبعت فعل پټ دے ﴿مِلَّةَ﴾ دابدل دے دَ دینا نه اودا بیانات دَ نبی ﷺ دپاره دَ اظهاردَ فرق دی په مینځ دَ مؤحدینواومشرکینو کښ۔

[١٦٢] دا خلاصه دَ ملت ابراهیمیه ده چه عبادت بدنیه اومالیه او ژوند تیرول اومړه کیدل صرف دَ اللّٰه تعالیٰ دپاره دی ﴿صَلَاتِيْ﴾ عام دے فرض، نفل ته ﴿نُسُكِيْ﴾ ټولوکارونودَ تقرب الٰهی اوطاعت ته وئیلے شی (قربانی) یا صرف ذبح کول (قربانی) اویا صرف طریقے دَ اداکولودَ حج مراد دی ﴿وَمَحْيَايَ﴾ صرف ژوند تیرول اوهغه کارونه چه ځه ئے په ژوندکښ کووم ﴿مَمَاتِيْ﴾ صرف مړکیدل اوهغه حالت چه ځه په هغے باندے مړکیږم لکه ایمان اوطاعت یا وصیت کول په وخت دَ مرګ کښ۔

[١٦٣] نفی دَ شرك اعتقادی اوعملی دواړومراد ده ﴿وَاَنَا اَوَّلُ الْمُسْلِمِيْنَ﴾ هریونبی په خپل اُمت کښ اول مسلم وی اودا لفظ وئیل خصوصیت دَ رسول اللّٰه ﷺ دے اودَ امتی دپاره بغیردَ قرآن لوستلونه داکلمه وئیل نیشته بلکه وانامن المسلمین به وائي لکه چه بعض روایاتو کښ راغلی دی۔

[١٦٤] دابله طریقه دَ تعلیم ده او جوابونه دَ درے سوالونو۔ اول سوال: سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه بل هم مدبردَ عالم کیدے شی نو نسل ئے پکاردے لکه قطب؟ جواب: دا دے چه اللّٰه تعالیٰ رب مدبردَ هرځیز دے نوبل مدبر ته ضرورت نیشته۔ دویم سوال: که اُوئیلے شی چه په دے عقیدے سره په انسان باندے ګناه نه راځی؟ جواب: ﴿وَلَا تَكْسِبُ كُلُّ نَفْسٍ﴾ مراد دَکسب نه کول دَ ګناه دی لکه شرك کول دَ اللّٰه تعالیٰ سره چه هغه نه معاف کیږی بلکه ګناه دَ شرك به په مشرك باندے ضرور راځی۔ دریم **سوال**: که څوك اُوائي چه دَ دے کارګناه به ځه اوچت کړم لیکن تهٔ داسے کار اوکړه؟ **جواب**: ﴿وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰى﴾ **سوال**: پیټے دَګناه په بل هیڅ چا باندے نشی راتلے بغیردَګناه کوونکی نه نودَ وازِرَةٌ تخصیص ئے ولے اوکړو؟ جواب: داسے وسوسه اچوونکے همیشه وازِرَةٌ (ګناه ګار) وی دَ دے وجے نه تخصیص ئے اوکړو اګرچه حکم عام دے اوداسے سوال جواب په سورهٔ عنکبوت(١٢) کښ ذکرشوے دے ﴿ثُمَّ اِلٰى رَبِّكُمْ﴾ دا تخویف اخروی دے ﴿فَيُنَبِّئُكُمْ﴾ انباء دَ خبرورکولونه مراد فیصله کول دی په مینځ دَ حق پرست اوباطل

فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجٰتٍ لِّيَبْلُوَكُمْ فِيْ مَآ اٰتٰىكُمْ ۭ اِنَّ رَبَّكَ سَرِيْعُ الْعِقَابِ ۖ وَاِنَّهٗ لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١٦٥﴾ ع

دپاسه دَبعضو په درجو (دَعلم اومال کښ) دے دپاره چه ازمیښت اوکړی په تاسو باندے په هغه څه کښ چه درکړیدی تاسوته یقیناً ستا رب زرعذاب ورکؤونکے دے (نه منونکوته) اویقیناً هغه دے بخنه کؤونکے رحم کؤونکے (١٦٥)

پرست کښ په جزا اوسزا ورکولوسره۔

[١٦٥] دا ترغیب دے عمل کولوته په احکامودَ دے سورت باندے اواثبات دَ ربوبیت دَ اللّٰه تعالیٰ دے کوم چه په مخکښ اٰیت کښ ذکرشوے دے ﴿خَلٰٓئِفَ﴾ سجستانی وئیلی دی چه معنی دَ دے اوسیدونکی دی چه په یوبل پسے نائبان وی او شربینی وئیلی دی چه دا صفت دَ دے اخری اُمت دے ځکه چه نبی ﷺ خاتم النبین دے نواُمت دَ هغه هم خلیفه دے دَ مخکښ ټولوامتیانو ﴿وَرَفَعَ بَعْضَكُمْ﴾ دا جواب دَ سوال دے چه هرکله په هریوکښ وصف دَ خلیفه وی نو پکار ده چه په ټولوکښ مساوات وے؟ جواب: اوشوحاصل دَ جواب دا دے چه دوی ئیے په تفاوت سره کړځولے شی ځوک عاقل ځوک جاهل ځوک مالدارځوک غریب ځوک مالك ځوک مملوك دپاره دَ ابتلاء ستاسواومقصد په ابتلاء کښ معرفت دَ توحید دَ اللّٰه تعالیٰ دے او فرق کول دی په مینځ دَشکرکوونکی دَ دے نعمت اوکفران کوونکی کښ ﴿فِيْ مَآ اٰتٰىكُمْ﴾ مراد دَ دے هرهغه صفت اوحالت دے چه انسان په هغے سره متصف وی په مالدار باندے ابتلاء ده په مالدارئے کښ اوپه غریب باندے په غریبئے کښ او خائسته شکل والاباندے په دغه صفت کښ اوپه بد شکل والادَ هغه په حال کښ اوپه عاقل عالم باندے په علم کښ اوپه جاهل باندے په جهل کښ ﴿اِنَّ رَبَّكَ سَرِيْعُ الْعِقَابِ﴾ دا تخویف دے شکرنه کوونکی دَ دے نعمت اودا رنګ عمل نه کوونکی په دے سورت باندے ﴿وَاِنَّهٗ لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ﴾ دابشارت دے شکرګذاردَ نعمتونوته اوعمل کوونکی ته په دے سورت باندے۔

سُوْرَةُ الْاَعْرَاف (٧) مَكِّيَّةٌ (٣٩) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ٢٠٦ رُكُوْعَاتُهَا ٢٤

الٓمّٓصٓ ۚ﴿١﴾ كِتٰبٌ اُنْزِلَ اِلَيْكَ فَلَا يَكُنْ فِيْ صَدْرِكَ حَرَجٌ مِّنْهُ لِتُنْذِرَ بِهٖ وَذِكْرٰى لِلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٢﴾ اِتَّبِعُوْا مَآ اُنْزِلَ اِلَيْكُمْ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَلَا تَتَّبِعُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ اَوْلِيَآءَ ۭ قَلِيْلًا مَّا تَذَكَّرُوْنَ ﴿٣﴾ وَكَمْ مِّنْ قَرْيَةٍ

الٓمّٓصٓ(١) داکتاب دے نازل کړے شویدے تاته پس نه دِ وی په سینه ستا کښ تنګسیا دَ رَسُولو دَ دهٔ نه دے دپاره چه یره ورکړے پدے سره او یاداشت دپاره دَ ایمان والو (٢) تابعداری کوئ دَ هغے چه نازل کړیشویدے تاسوته دَطرف درب ستاسونه او تابعداری مه کوئے خلاف دَ اللّٰه تعالیٰ نه دَ نورو دوستانو دِیرکم نصیحت اخلئ تاسو (٣) او دِیرو کلووالا

سورة الاعراف

ربط: دَ دے سورت دا دے چه په سورة انعام کښ دلیلونه عقلی بیان شول په مسئله دَ توحید باندے نوپدے سورت کښ دلیلونه نقلی دی په دے مسئله او بهادری دَ پیغمبرانو ذکرکوی دپاره دَ بیان دَ توحید۔

دعوے دَ دے سورت درے دی: اوله بهادری اوکړئے دپاره دَبیان دَ مسئلے دَ توحید اودَ قرآن په (٢) کښ دویمه تابعداری دَکتاب اوسنت کوئے دَ دے نه خلاف دَ هیڅا اتباع مه کوئے خصوصاً په تحلیل اوتحریم کښ په (٣) کښ۔ دریمه شرك مه کوئے دَ اللّٰه تعالیٰ سره په بندګئ اوپه بلنه کښ په (٥٤) کښ۔

خلاصه: دَ دے سورت دوه حصے دی اوله حصه تر(٥٤) پورے ده په دے کښ درے بابونه دی اول باب تر(١٠) پورے دے په دیکښ اوله دعویٰ اودویمه دعویٰ ذکرده بیا تخویف دُنیوی په ذکرکولودَ درے حالاتودَ منکرینو په (٥،٤) کښ اوبیا تخویف اُخروی دے په ذکرد درے حالاتوسره په (٦، ٧، ٨) کښ اوبیا ترغیب دے په (١٠) کښ۔

تفسیر

[١] دَ مقطعاتوباره کښ تفصیل مخکښ تیرشوے دے اودلته ورسره حرف ص کښ لطیفه اشاره ده دِیروقصودَ دے سورت ته اوصفت دَ صمدیت دَ اللّٰه تعالیٰ ته۔

[٢] مطلب دا دے چه داکتاب نازل کړے شوے دے دپاره دَ بیان نودَ دے په تبلیغ کښ چه څه تکلیفونه راځی نوصبرکوه اوځان مه تنګوه۔ دے ایت کښ اوله دعویٰ ده په دیکښ تعریف دَکتاب اودوه فائدے دَکتاب اویوادب دَ هغے ذکردی ﴿لِتُنْذِرَ﴾ عام دے مشرکانوکافرانو ته سره دَ مؤمنانو نه او﴿ذِكْرٰى﴾ خاص دے مؤمنانو پورے۔

[٣] دا دویمه دعویٰ ده داکیفیت دَ انذار اوذکریٰ دے ﴿مَآ اُنْزِلَ﴾ قرآن اوسنت دے مدارك، خازن، قرطبی ټولو وئیلی دی نوکوم کتاب یا پیرمُلا وغیره چه دَ دینه خلاف وی نودَ هغه تابعداری مه کوئے۔ ﴿اَوْلِيَآءَ﴾ مراد دَ ولایت نه تابعداری کول دی سرهٔ دَ محبت نه قرطبی وئیلی دی څوك چه راضی شوپه یومذهب نواهل دَ هغه مذهب دَ دهٔ اولیاء شول ﴿قَلِيْلًا مَّا تَذَكَّرُوْنَ﴾ په دے کښ اشاره ده چه داسے صفت

اَهْلَكْنٰهَا فَجَآءَهَا بَاْسُنَا بَيَاتًا اَوْهُمْ قَآئِلُوْنَ ۞ فَمَا كَانَ دَعْوٰىهُمْ اِذْ جَآءَهُمْ بَاْسُنَآ اِلَّآ اَنْ قَالُوْٓا
اِنَّا كُنَّا ظٰلِمِيْنَ ۞ فَلَنَسْـَٔلَنَّ الَّذِيْنَ اُرْسِلَ اِلَيْهِمْ وَلَنَسْـَٔلَنَّ الْمُرْسَلِيْنَ ۞ فَلَنَقُصَّنَّ عَلَيْهِمْ بِعِلْمٍ وَّمَا
كُنَّا غَآئِبِيْنَ ۞ وَالْوَزْنُ يَوْمَئِذِ ِالْحَقُّ ۚ فَمَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِيْنُهٗ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ۞ وَمَنْ خَفَّتْ
مَوَازِيْنُهٗ فَاُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ بِمَا كَانُوْا بِاٰيٰتِنَا يَظْلِمُوْنَ ۞ وَلَقَدْ مَكَّنّٰكُمْ فِى الْاَرْضِ وَ

چه هلاك كړی دی مونږ هغه پس راغے هغوی ته عذاب زمونږ په وخت د شپے کښ یا به دوی آرام کؤو په وخت د غرمه کښ (٤) پس نه وو فریاد د دوی کوم وخت چه راغے دوی ته عذاب زمونږ مګر چه وئیل دوی یقیناً مونږ ؤو ظالمان (٥) پس خامخا تپوس به کوو مونږ د هغه کسانو (اُمتونونه) چه لیګلے شوی دی دوی ته رسولان او خامخا تپوس به کؤو مونږ د لیګلے شؤو نه (٦) پس خامخا بیان به اوکړو مونږ په دوی باندے په علم خپل سره اونه یومونږ غائب (د دوی دَعملونونه)(٧) او تول په دغه روز یقینی دے پس هغه څوك چه درونده وی وزن د عملونو دَهغوی پس دغه کسان دوی بچ کیدونکی دی (د عذاب نه)(٨) اوهغه څوك چه سپك وی عملونه دَهغوی پس داهغه کسان دی چه تاوانی کړیدی ځانونه خپل په سبب د دے چه دوی په آیاتونو زمونږ ظلم کؤو (٩) اویقیناً ځائے درکړے دے مونږ تاسوته په زمکه کښ او والا خلق په دُنیا کښ ډیر کم دی۔

[٤،٥] دا یره دُنیوی ده یعنی عذاب د اللّٰه تعالیٰ په وخت د غفلت د خلقو کښ راځی نوبیا توبے ته اوزګارنه وی مګرتوبه کوی په وخت د راتللود عذاب کښ لیکن هغه نه قبلیږی، پدیکښ درے احوال د منکرینوذکر کړیدی اهلاك، غفلت، اقرارپه ظلم ﴿اَهْلَكْنٰهَا﴾ مراد د دے نه اراده د اهلاك ده یا اجمال دے او ورپسے فا تفصیلیه ده ﴿فَقَآئِلُوْنَ﴾ د قیلوله نه دے ارام کول په وخت د غرمه کښ که خوب ورسره وی اوکه نه وی اوپه قوم شعیب باندے عذاب په داسے وخت کښ راغلے وؤ ﴿ظَالِمِيْنَ﴾ مراد د ظلم نه تابعداری نه کول د ما انزل دی اوتابعداری د غیرده۔

[٦] دا یره اُخروی ده په ذکرد درے احوالوسره دلته اول حال ذکردے یعنی سوال، د هر چا نه د هغه مناسب تپوس کیږی نو دَرسولانونه به د هغوی د دعوت کولوپه باره کښ تپوس کیږی لکه احزاب (٨)کښ اوتپوس د اُمت د حال به کیږی لکه مائده (١٠٩)کښ۔ اودَعامو خلقو نه به تپوس صرف د عمل نه کیږی بلکه د لِمَ ولے دِکوؤ څه باعث وؤچا دپاره دِ دا عمل کړے وؤاوکَیفَ چه د چا په طریقه دِکړے وؤ او دارنګ ذکردے په سورة حجر(٩٢)کښ اوعدم سوال چه ذکردے په سورة قصص ٧٨ اوسورة رحمٰن ٣٩ کښ نوهلته تطبیق ذکرکړے شوے دے۔

[٧] یعنی که څوك پتوی یا انکارکوی نواللّٰه تعالیٰ به پخپله بیان اوکړی په دے ایت کښ دویم حالت ذکرشو۔

[٨،٩] په دے ایت کښ دریم حال ذکرکوی چه وزن دے یعنی د قیامت د احوالو نه وزن د عملونوهم حق دے او درونوالے اوسپکوالے دَعملونود توحید اوسنت په شته والی اونیشت والی سره دے ډیروالے اوکموالے نه دے مراد۔ اود وزن نه مراد وزن د صحیفے د اعمالودے لکه چه صحیح احادیثو کښ راغلی دی

جَعَلْنَا لَكُمْ فِيْهَا مَعَايِشَ ؕ قَلِيْلًا مَّا تَشْكُرُوْنَ ۝١٠ وَلَقَدْ خَلَقْنٰكُمْ ثُمَّ صَوَّرْنٰكُمْ ثُمَّ قُلْنَا لِلْمَلٰٓئِكَةِ
اسْجُدُوْا لِاٰدَمَ ۖ فَسَجَدُوْٓا اِلَّآ اِبْلِيْسَ ؕ لَمْ يَكُنْ مِّنَ السّٰجِدِيْنَ ۝١١ قَالَ مَا مَنَعَكَ اَلَّا تَسْجُدَ اِذْ
اَمَرْتُكَ ؕ قَالَ اَنَا خَيْرٌ مِّنْهُ ۚ خَلَقْتَنِيْ مِنْ نَّارٍ وَّخَلَقْتَهٗ مِنْ طِيْنٍ ۝١٢ قَالَ فَاهْبِطْ مِنْهَا فَمَا يَكُوْنُ

جوړ کړی دی مونږ تاسو لره په دے زمکه کښ اسباب ډزوند ډیرکم شکر کوئے تاسو (۱۰) او یقیناً پیدا کړی یئ مونږ تاسو بیا مونږ شکلونه درکړی دی تاسوته بیا(داهم واورئ) چه وئیلی وومونږ ملائکو ته سرخکته کړئ په تعظیم سره آدم(علیه السلام) ته پس سجده اوکړه دوی(په هغه طریقه) مگر ابلیس، نهٔ ؤو دے دَ سجده کؤونکونه (۱۱) اوفرمائیل اللّٰه تعالیٰ څه شی اوبللے ته سجدے نه کولوته کوم وخت چه ماحکم اوکړوتانه دَه اُوئیل څه غوره یم دَ دهٔ نه (څکه چه) تاځه پیدا کړے یم دَ اُورنه او دے دِ پیدا کړیدے دَ خټے نه(۱۲) اوفرمائیل اللّٰه تعالیٰ پس کوزشه دَ دے ځائے نه پس نه دی مناسب

هاں وزن دَ نفس عملونوهم کیدے شی بغیرد دے نه چه څه جسم ورله ورکړی لکه چه اوس هواګانے اویخنی اوګرمی تللے کیږی او وزن دَ بعض انسانانوهم په حدیث کښ راغلے دے۔ لیکن معتزله اومنکرین حدیث چه تاویل دَ وزن کوی په نفس عدل اوقضا سره اودَ وزن اومیزان حقیقی نه انکارکوی نوهغه دَظاهری اوصریح ایاتونونه انکار دے لکه چه قرطبی ذکرکړے دے ﴿مَوَازِيْنُهٗ﴾ جمع دَ میزان ده نوظاهردا ده چه میزانونه به ډیروی په اعتبارد انسانانویا دَ اعمالوسره یا جمع دَ موزون ده مراد ترینه اعمال دی اوظاهردا ده چه درونوالے سپکوالے په ډیروالی سره نه دے اولفظ﴿خَسِرُوْٓا﴾ او﴿يَظْلِمُوْنَ﴾ دلالت کوی چه وزن دَ عملونودَ کافرانوهم حق دے۔

[۱۰] دا ترغیب دے تعمیل دَ احکامودَ اللّٰه تعالیٰ ته اوپه اخری جمله کښ زجردے اودا ایت دلیل دے چه بغیرد زمکے نه دَ انسان بل ځائے اوسیدل نه شی کیدے۔

[۱۱] دَ دے ځائے نه دویم باب دے تر(۳۶) پورے په دے کښ واقعه دَ آدم علیه السلام اودَ ابلیس ده دپاره دَ رد دَشرك فعلی (چه دوی په طواف کښ په ځان جامے حرام کړی دی) اوځلورم کرته خطاب دے په یا بَنِی آدَمَ سره اول ځل دپاره دَ تذکیرد نعمت دَ لباس دویم ځل دپاره دَبیځ کیدلودَ وسوسے دَ شیطان نه اورد دے په دلیل دَ مشرکانوباندے دریم ځل دپاره دَ رد دَ شرك فعلی اوذکردَ تحریمات الٰهیه څلورم ځل دپاره دَنعمت دَ رسالت۔ بیا په دے ایت کښ تفصیل دے دَ ابتداء دَمکناکم چه تمکین کښ معنی دَعزت اودَ اکرام ده اوهغه په واقعه دَ سجود سره ښکاره ده ﴿خَلَقْنٰكُمْ ثُمَّ صَوَّرْنٰكُمْ﴾ په دے کښ اول قول دا دے چه خلق دَ مادے دَ آدم علیه السلام اوبیا صورت جوړول دَ هغه دی نومراد دَ دے اَبَاكُمْ دے ﴿اسْجُدُوْا﴾ مراد دَ سجدے نه سجده تحیه ده دپاره دَ اکرام آدم علیه السلام ته په سرښکته کولوسره لیکن زمونږاُمت کښ دا هم منع ده نورتفصیل سورة بقره کښ تیر شوے دے۔

[۱۲] دَ دے ایت نه معلومه شوه چه دَ نص یعنی ښکاره حکم دَ اللّٰه تعالیٰ اودَ رسول په مقابله کښ خپل قیاس پیش کول دا کار اول ابلیس کړے وؤدارنګ هرمشرك اومبتدع دَ نص مقابله کښ قیاسونه پیش کوی دا قرطبی ذکرکړی دی۔ اودا دلیل ئے په دے سورت کښ ذکرکړواشاره ده چه شرك فعلی کوؤنکے

لَكَ اَنْ تَتَكَبَّرَ فِيْهَا فَاخْرُجْ اِنَّكَ مِنَ الصّٰغِرِيْنَ ﴿١٣﴾ قَالَ اَنْظِرْنِيْٓ اِلٰى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ ﴿١٤﴾ قَالَ اِنَّكَ
مِنَ الْمُنْظَرِيْنَ ﴿١٥﴾ قَالَ فَبِمَآ اَغْوَيْتَنِيْ لَاَقْعُدَنَّ لَهُمْ صِرَاطَكَ الْمُسْتَقِيْمَ ﴿١٦﴾ ثُمَّ لَاٰتِيَنَّهُمْ مِّنْۢ
بَيْنِ اَيْدِيْهِمْ وَمِنْ خَلْفِهِمْ وَعَنْ اَيْمَانِهِمْ وَعَنْ شَمَآئِلِهِمْ ؕ وَلَا تَجِدُ اَكْثَرَهُمْ شٰكِرِيْنَ ﴿١٧﴾ قَالَ

تالره چه لوئی او کړے ته په دے ځائے کښ پس اوځه یقیناً ته دَ ذلیلانونه ئے(۱۳) دهٗ اُوئیل مهلت راکړه مالره دَ روز دَ دوباره ژوند پورے(۱٤) او فرمائیل اللّٰه تعالیٰ یقیناً ته دَ مهلت درکړے شوونه ئے (۱۵) دهٗ اُوئیل پس په دے وجه چه تاځه محرومه کړم (دَرحم خپل نه) خامخا کینم به دوی ته په نیغه لاره ستا کښ(دپاره دَمنع کولو)(۱٦) بیا خامخا راځم به دوی ته دَ مخے دَ دوی نه او دَشا طرف دَ دوی نه او دَځی طرفونونه اودَکس طرفونونه اونه به مومے پیر دَ دوی نه توحید والا(۱۷) اوفرمائیل اللّٰه تعالیٰ

داسے دلیلونه پیش کوی۔ اودے ایت نه معلومه شوه چه ابلیس هم ماموروؤپه سجده کولوسره ﴿اَنَاخَيْرٌ﴾ دا تزکیه ده خپله او تکبردے اوپه ضمن کښ اعتراض دے په امردَ اللّٰه تعالیٰ باندے﴿خَلَقْتَنِيْ﴾داعلت دے دَ انا خیرلیکن دلیل ئے غلط دے ځکه چه خاوره اوختهه کښ دَ اُورنه زیاتے فائدے دی ﴿مَامَنَعَكَ اَلَّا تَسْجُدَ﴾ په دے کښ یو قول دا دے چه لا زائد دے لکه په سورة ص(۷۵) کښ بغیردَ لانه دے۔

[۱۳] دا ایت دلیل دے چه تکبرسبب دَ ذلت دے اوپه دے کښ دَ هغه تذلیل په درے طریقوسره ذکرکړواول ﴿فَاهْبِطْ﴾ دا هبوط په طریقه دَ تذلیل سره دے په قرینه دَ مایکون لك، اوپه هبوط آدم کښ دا قید نیشته نوهغه دپاره دَ تذلیل نه دے دویم ﴿اخْرُجْ﴾دا لفظ روستودَ اهباط نه دپاره دَتاکید دَ ذلت دے دریم﴿الصّٰغِرِيْنَ﴾اشاره ده چه په مقابله دَ تکبرکښ صغار راځی۔

[۱٤،۱۵] مهلت غوختل دَ ورځ دَ بعث پورے دَ دے دپاره وؤ چه دَ مرګ نه بچ شی۔ لیکن اللّٰه تعالیٰ دهٗ له مهلت ورکړو دَ ورځ دَ فنا پورے فقط لکه په سورة حجر(۳۸)کښ اوسورة ص(۸۱)کښ دی اوهغه وخت کښ به نورخلق هم موجود وی ځکه ئے ورته مُنظَرِینَ او فرمائیل۔

[۱٦] دا دلیل دے چه دَ صراط مستقیم لوئے دُشمن ابلیس دے ﴿فَبِمَا﴾ باء سببیه یا قسمیه ده اوما استفهامیه دے او ﴿لَاَقْعُدَنَّ﴾ نه مستقل کلام شروع کیږی یا ما مصدریه دے ﴿اَغْوَيْتَنِيْ﴾ اغواء په معنیٰ دَ اچولودَ غیّ (سرکشئ) دی په زړه کښ اوپه معنیٰ دَ اهلاك سره هم راځی﴿لَاَقْعُدَنَّ﴾ کیناستل کنایه ده دَ لزوم نه ﴿لَهُمْ﴾ په معنی لِاِضْلَالِهِمْ وَاِغْوَائِهِمْ دے ﴿صِرَاطَكَ الْمُسْتَقِيْمَ﴾ چه دَ هغے ابتداء دَ توحید نه ده لکه ابن کثیرذکرکړے دی۔

[۱۷] دَ دے نه مراد دا دے چه په هرطریقه به دوی گمراه کوم یا دا مطلب دے چه دَ اخرت نه به ئے منکریا غافل کوم اودَ نیك کارونونه به ئے منع کؤم اودَ بدوکارونورغبت به ورکؤم۔مِن فَوقِهِم، ئے نه دے وئیلے اشاره ده چه رحمت دَ اللّٰه تعالیٰ نشی منع کولے اومِن تَحتِهِم، ئے هم نه دے وئیلے چه دَلاندے نه راتلل نه کیږی﴿شَاكِرِيْنَ﴾ قرطبی اوخازن اوابن کثیروئیلی دی چه مراد دَ دے نه مؤحدین دی ځکه چه ابلیس اوله دُشمنی دَتوحید سره کوی اودا قول دَ ابلیس په طریقه دَ ظن غالب سره دے۔

اخْرُجْ مِنْهَا مَذْءُوْمًا مَّدْحُوْرًا ؕ لَمَنْ تَبِعَكَ مِنْهُمْ لَاَمْلَـَٔنَّ جَهَنَّمَ مِنْكُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿۱۸﴾ وَيٰۤاٰدَمُ
اسْكُنْ اَنْتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ فَكُلَا مِنْ حَيْثُ شِئْتُمَا وَلَا تَقْرَبَا هٰذِهِ الشَّجَرَةَ فَتَكُوْنَا مِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۹﴾
فَوَسْوَسَ لَهُمَا الشَّيْطٰنُ لِيُبْدِيَ لَهُمَا مَا وٗرِيَ عَنْهُمَا مِنْ سَوْاٰتِهِمَا وَقَالَ مَا نَهٰىكُمَا رَبُّكُمَا
عَنْ هٰذِهِ الشَّجَرَةِ اِلَّاۤ اَنْ تَكُوْنَا مَلَكَيْنِ اَوْ تَكُوْنَا مِنَ الْخٰلِدِيْنَ ﴿۲۰﴾ وَقَاسَمَهُمَاۤ اِنِّيْ لَكُمَا لَمِنَ

اوځه دَ دے ځائے نه بدوئیلے شوے رټلے شوے خامخا چاچه تابعداری اوکړه ستا دَ دوی نه خامخا ډك به کړم جهنم ستاسونه په یوځائے (۱۸) او اے آدم(علیه السلام) اوسه ته اوبی بی ستا په جنت کښ پس خوریځ دَهغے ځائے نه چه خوخه وی ستاسو او نزدے مه ورزئے دے اونے ته (په قصد) پس شئ به تاسو دَ ګنهګارونه (۱۹) پس وسوسه اوکړه دے دواړوته شیطان(عاقبت دادے) چه بښکاره کړی دوی ته هغه چه پټ شویؤو دَ دوی نه دَ وجودونودَ دوی نه اووے وئیل نه ئے منع کړی تاسو رب ستاسو دَ دے ونے نه مګر دَ دے وجے نه چه شئے به (اوګدعمر والا) دوه ملائك یاشئے به تاسو دَ همیشه پاتے کیدونکونه (۲۰) اوقسم ئے اوکړو دے دواړوته چه یقیناً ځه ستاسو دَ

[۱۸] په دے ایت کښ دَ ابلیس دَدُعا اجابت دے سره دَ تخویف نه په تابعدارئے کولودَ هغه سره ﴿اخْرُجْ﴾ دا اعاده بعد دَ عهد ده یعنی اول اخرج په طریقه دَ فیصله الٰهی وؤ اودویم نافذکول دَ امردی یا اول اخراج دَ جنت نه اودویم دَ آسمان نه﴿مَذْءُوْمًا﴾ذأم زیات دے دَ ذم نه په معنیٰ دَ عیب کښ یعنی ډیرعیب ژن ﴿مَدْحُوْرًا﴾ په لغت کښ رټلے شوی ته وائی او صیغے دَمفعول دلالت کوی چه دا بد وئیل اورټل به دَ هرطرف نه وی۔ ﴿لَاَمْلَـَٔنَّ﴾ اشاره ده چه په جهنم کښ به تعذیب دپاره صرف تابعدارد ابلیس وی که په کفراوشرك سره وی اوکه په نوروګناهونو سره وی اول قسم به همیشه وی جهنم کښ دویم به همیشه نه وی۔

[۱۹] دا اظهارد انعام الٰهی دے په هغه آدم علیه السلام چه ابلیس هغه ته سپك کتل دا معطوف دے په اخرج باندے په(۱۸) کښ ﴿وَلَا تَقْرَبَا﴾ مراد دَ نهی دَ قِربان نه قصد اوعمد دے چه هغه سبب دَ ظلم دے نوپه سهوه اونسیان دَ ادم سره ظلم دَ هغه نه ثابتیږی اونورتفصیل په سورة بقره کښ تیرشوے دے۔

[۲۰] په دے ایت کښ تفصیل دَ وسوسے دَ ابلیس دے اوعاقبت دَعمل کولودے په وسوسه باندے۔ ﴿فَوَسْوَسَ﴾ سوال: هرکله چه ابلیس دَ جنت اواسمانونونه کوزکړے شوے وؤ نوبیائے څرنګ وسوسه اوکړه آدم علیه السلام ته؟ جواب: هرکله چه ابلیس ته ئے اُوئیل اخرج او ادم ته ئے اُوئیل اسکن نو ابلیس دَ راوتلوپه وخت کښ آدم علیه السلام ته دا خبره اوکړله اودَ لالت کوی په دے باندے فا په فوسوس کښ چه دَ اتصال دپاره راځی اوځوك چه وائی چه ابلیس په دروازه دَ جنت کښ اولاړ وؤ او ادم ته ئے اواز ورکړونودا بے دلیله خبره ده اوځوك چه وائی دَمارپه ځُله کښ جنت ته داخل شونوداخوبے دلیله اواسرائیلی قصه ده ﴿لَهُمَا﴾ اوسورة طٰهٰ (۱۲۰)کښ الیه ذکردے وجه دا ده چه دلته دَ مخکښ نه تثنیه الفاظ ذکر دی نو دائیے هم تثنیه ذکر کړه او سورة طٰه کښ دَ مخکښ نه دَ ادم ذکر دے نور وستوئیے هم ضمیرد مفرد ذکرکړونووسوسه ئیے دواړوته کړے ده لیکن ښځه تابع دَ خاوند ده نوکله دَ هغے ذکر اونشی ﴿لِيُبْدِيَ﴾ اکثرمفسرینو وئیلی دی چه لام دپاره دَعاقبت دے ځکه چه ابلیس ته دا علم نه وؤچه په دے سره

الصّٰغِرِيْنَ ﴿٢١﴾ فَدَلّٰىهُمَا بِغُرُوْرٍ ۚ فَلَمَّا ذَاقَا الشَّجَرَةَ بَدَتْ لَهُمَا سَوْاٰتُهُمَا وَطَفِقَا يَخْصِفٰنِ عَلَيْهِمَا مِنْ وَّرَقِ الْجَنَّةِ ؕ وَنَادٰىهُمَا رَبُّهُمَآ اَلَمْ اَنْهَكُمَا عَنْ تِلْكُمَا الشَّجَرَةِ وَاَقُلْ لَّكُمَآ اِنَّ الشَّيْطٰنَ لَكُمَا عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ﴿٢٢﴾ قَالَا رَبَّنَا ظَلَمْنَآ اَنْفُسَنَا ۖ وَاِنْ لَّمْ تَغْفِرْ لَنَا وَتَرْحَمْنَا لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿٢٣﴾ قَالَ

خیر خواهو نه یم (۲۱) پس راکوزئے کړل په دهوکه سره پس هرکله چه اوځکله دوی اونه ښکاره شو دواړوته وجودونه دَ دوی اوشروع شو دواړه چه لګولے ئے په ځان باندے دَپانړو دَ جنت نه او اواز ورکړو دے دواړوته رب دَ دوی ایامانه وئے منع کړی تاسو دَ دے ونے نه او نه وو وئیلی ماتاسوته یقیناً شیطان تاسو لره دُشمن ښکاره دے (۲۲) اُوئیل دواړو اے ربه زمونږ نقصان کړیدے مونږه دَ ځانونو خپلو اوکه بخنه اونکړے ته مونږ ته اورحم اونکړے په مونږ خامخا شوبه مونږ دَ تاوان والونه(۲۳) اوفرما ئیل اللّٰه تعالٰی

په دَ دوی عورتونه ښکاره کیږی اودا هم جائزده چه لام دَ علت وی او کیدیشی چه ابلیس ته دَ دے علم دَ ځکښ نه حاصل وؤ ﴿سَوْاٰتِهِمَا﴾ سوء ه دَ بدن هغه حصے ته وئیلے شی چه دَ هغے په ښکاره کیدلو سره انسان فطرةً خفه کیږی نوعورت دے ﴿مَاوٗرِیَ﴾ اشاره ده چه عورت دَ انسان طبعاً پټ وی اوطبعاً دَ هغے ښکاره کول بدګنړی ځکه ئے صیغه دَ مجهول ذکرکړله ﴿اَنْ تَكُوْنَا مَلَكَيْنِ﴾ داپه طریقه دَتشبیه سره مراد دے یا په طریقه دَ قلب حقیقت سره هم احتمال لری اوتشبیه دَ ملائکوسره په ډیرصفتونو کښ ده چه ځوراك ته به محتاج نه ئے اوهرقسم شکلونه به اختیار ولے شے اوپه الوتلوباندے به قدرت لرے اوعمرونه به موهم اوګده شی دا هم مرغوب صفتونه دی چه انسان ئے غواړی ﴿اَوْتَكُوْنَا مِنَ الْخَالِدِيْنَ﴾ دا ترقی ده دَماقبل نه اوپه معنیٰ دَبل سره دے یعنی بلکه دَ فنا اودَ مرګ نه به بچ شئے دا هم دَ انسان ډیرمرغوب ځیزدے اوسورة طٰهٰ کښ صرف روستنئے خبره ذکرکړیده ځکه سورة اعراف تفصیلی سورة دے نوپدیکښ ئے تفصیل ذکرکړیدے اوسورة طٰهٰ کښ اختصار مقصد دے دَ دے وجے نه اخری مرغوب ئے ذکرکړیدے۔

[۲۱] ﴿قَاسَمَهُمَآ﴾ دا صیغه دلته دپاره دَ مبالغے ده یعنی کلك قسم ئے اوکړو قسم دپاره دَ تاکید دَ وسوسے دے اودائے مطلق ذکرکړو لیکن مراد دَ دے نه قسم باللّٰه دے اوابلیس اول هغه شخص دے چه په اللّٰه تعالٰی باندے په دروغه قسم کړیدے او دَ آدم علیه السلام ګمان هم دا وؤچه هیڅوك به په اللّٰه تعالٰی باندے په دروغه قسم نه کوی۔

[۲۲] ﴿فَدَلّٰىهُمَا﴾ فا دلالت کوی چه دوی په وسوسه باندے سمدستی عمل کړے دے۔ دَلّٰهُمَا مراد دَ دے نه راکوزول دی دَ طاعت نه معصیت ته یا دَ اوچتے درجے نه کوزے درجے ته یادا په معنیٰ دَ ازلهما سره دے ﴿بِغُرُوْرٍ﴾ ښکاره کول دَ نصیحت اوپټ ساتل دَ نقصان ته غرور وائي ﴿سَوْاٰتُهُمَا﴾ دلته معنیٰ ظاهری مراد ده دلیل په هغے روستوجمله ده چه پانړے لګول دی په ځان باندے اوبحرالمحیط کښ ذکردی چه څوك وائي چه مراد دَ دے نه دَ دوی عیبونه اوسخت ژوند ښکاره کیدل دی او بربنډ شوی نه دی نودا قول دَ قرآن کریم دَ ظاهرنه خلاف دے اوتاویل دے بغیرد دلیل نه۔

[۲۳] ظلم په معنیٰ دَ نقصان دے یعنی مونږخپله حصه کمه کړه ځکه چه دَ جنت نه اووتلو ﴿وَاِنْ لَّمْ تَغْفِرْ لَنَا﴾ دَګناه بخل مراد نه دی ځکه چه ګناه ئے نه دے کړے بلکه پرده اچول مراد دی۔ او رَحَم نه مراد ائنده دپاره دَ داسے کارنه بچ کول دی۔ یا دا دُعا دَ وجے دَ انکسار اودَ تضرع نه ده نودَ لالت نه کوی په ګناه کولو

اهْبِطُوْا بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ ۚ وَلَكُمْ فِي الْاَرْضِ مُسْتَقَرٌّ وَّ مَتَاعٌ اِلٰى حِيْنٍ ﴿٢٤﴾ قَالَ فِيْهَا تَحْيَوْنَ
وَفِيْهَا تَمُوْتُوْنَ وَمِنْهَا تُخْرَجُوْنَ ﴿٢٥﴾ يٰبَنِيْٓ اٰدَمَ قَدْ اَنْزَلْنَا عَلَيْكُمْ لِبَاسًا يُّوَارِيْ سَوْاٰتِكُمْ وَرِيْشًا ؕ
وَلِبَاسُ التَّقْوٰى ۙ ذٰلِكَ خَيْرٌ ؕ ذٰلِكَ مِنْ اٰيٰتِ اللّٰهِ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُوْنَ ﴿٢٦﴾ يٰبَنِيْٓ اٰدَمَ لَا يَفْتِنَنَّكُمُ الشَّيْطٰنُ
كَمَآ اَخْرَجَ اَبَوَيْكُمْ مِّنَ الْجَنَّةِ يَنْزِعُ عَنْهُمَا لِبَاسَهُمَا لِيُرِيَهُمَا سَوْاٰتِهِمَا ؕ اِنَّهٗ يَرٰىكُمْ هُوَ وَقَبِيْلُهٗ مِنْ

کوزشئے بعضے ستاسو دَ بعضو دَ پارہ دُشمنان بہ وی اوتاسو دپارہ پہ زمکہ کښ ځائے دَ اوسیدلو دے اومزے اغستل دی تریو وخت پورے (٢٤) اوفرمائیل اللّٰہ تعالیٰ پہ دے زمکہ کښ بہ ژوند تیروئ تاسو اوپہ دے کښ بہ مړہ کیږئ تاسو او دَ دے نہ بہ ویستلے کیږئ تاسو(٢٥) اے بنیادمو یقیناً پیدا کړے دہ مونږ تاسو لرہ جامہ چہ پتوي عورتونہ ستاسو او ځائیست دے اوجامہ دَ پرهیزګارئ داغورہ دہ دا دَ نعمتونو دَ اللّٰہ تعالیٰ نہ دہ دے دپارہ چہ نصیحت واخلئ (٢٦) اے بنیادمو دھوکہ دِ نکړی تاسو لرہ شیطان لکہ چہ ویستلی دی مور اوپلار ستاسو دَ جنت نہ اُویستلے ئے دَ دواړونہ جامے دَهغوی چہ دے دپارہ چہ بىکارہ کړی دوی تہ وجودونہ دَ دوی یقیناً دے وینی تاسو لرہ دے او اولاد دَ دہٗ پہ

باندے اودا دَ مقرینوعادت دے چہ وړو کے نقصان غټ ګڼړی اوشرینی لیکلی دی چہ دا صرف خلاف اولی کاروؤ اوپہ نسیان سرہ شوے وؤپہ دلیل دَ سورۃ طٰہٰ ١١٥ سرہ نور تفصیل پہ سورۃ بقرہ کښ تیرشوے دے۔

[٢٤] دَ بخښش کولواوتوبہ قبلولونہ روستودا حکم دلیل دے چہ داکوزول زمکے تہ سزا دَګناہ نہ دہ بلکہ اثرد دغہ شجرے دے اوپہ دے ایت کښ دَ راکوزولوغایہ تکوینی ذکرکړیدہ لکہ پہ سورۃ بقرہ٣٦ کښ اوغایۃ تشریعی بہ پہ٣٥ کښ ذکرکوی۔

[٢٥] دا ھم دَغایہ تکوینی سرہ تعلق لری اوپہ دے کښ فنا اوبعث ھم ذکرکوی دپارہ دَ دے چہ غفلت رانشی دَ دے نہ مراد عام ژوند دے اوھغہ پہ زمکہ کښ دے نو بعض ژوند پہ طریقہ دَ خرق عادت سرہ وی لکہ پہ اسمان کښ ژوند دَ عیسیٰ علیہ السلام نوپدے سرہ اعتراض نہ راځی۔

[٢٦] ظاھرہ دا دہ چہ دا خطابات پہ وخت دَ راکوزولودَ آدم علیہ السلام کښ وؤ ځکہ چہ دا نعمت دَ لباس یوأمت پورے خاص نہ دے نودا اول خطاب پہ یا بَنِي آدَمَ سرہ دپارہ دَ دے چہ لباس دَ اللّٰہ تعالیٰ نعمت دے نودَ دے نا شکری مہ کوئے پہ تحریم دَ ھغے سرہ پہ ځان باندے پہ طواف کښ ﴿اَنْزَلْنَا﴾ قرطبی دَ سعید ابن جبیر نہ نقل ذکرکړے دے چہ انزال پہ معنیٰ دَخلق (پیدا کولو) سرہ دے لیکن انزال ئے ورتہ دَ دے وجے نہ وئیلے دے چہ دَ دے اسباب آسمانی دی لکہ باران ورول اوپہ ھغے سرہ بوټی راویستل پہ ھغہ بوټوکښ بوټی دَ پونے او ریښم او ربړ وغیرہ پیداکیدل ﴿وَلِبَاسُ التَّقْوٰى﴾ دَ دے نہ مراد ھغہ جامہ دہ چہ دَ شرع مطابق وی یا مراد دَ دے نہ نفس تقوٰی دہ یعنی ایمان نیك عمل۔ اودائے دَ دے وجے نہ ذکرکړو چہ بنی آدم دَ لباس طرف تہ زیاتہ توجہ اونکړی اوایمان ھیرنکړی۔

حَيْثُ لَا تَرَوْنَهُمْ ؕ اِنَّا جَعَلْنَا الشَّيٰطِيْنَ اَوْلِيَآءَ لِلَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿٢٧﴾ وَاِذَا فَعَلُوْا فَاحِشَةً قَالُوْا
وَجَدْنَا عَلَيْهَآ اٰبَآءَنَا وَاللّٰهُ اَمَرَنَا بِهَا ؕ قُلْ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَاْمُرُ بِالْفَحْشَآءِ ؕ اَتَقُوْلُوْنَ عَلَى اللّٰهِ
مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿٢٨﴾ قُلْ اَمَرَ رَبِّيْ بِالْقِسْطِ ۟ وَاَقِيْمُوْا وُجُوْهَكُمْ عِنْدَ كُلِّ مَسْجِدٍ وَّادْعُوْهُ مُخْلِصِيْنَ
لَهُ الدِّيْنَ ؕ كَمَا بَدَاَكُمْ تَعُوْدُوْنَ ﴿٢٩﴾ فَرِيْقًا هَدٰى وَفَرِيْقًا حَقَّ عَلَيْهِمُ الضَّلٰلَةُ ؕ اِنَّهُمُ اتَّخَذُوا

داسے طریقه چه نه وینئ تاسو دوی لره یقیناً جوړ کړی دی مونږ شیطانان دوستان (دَتابعدارئ) هغه کسانو لره چه ایمان نه راوړی (۲۷) او کله چه اوکړی دوی څه بدکار دوی وائی موندلی دی مونږ په دے باندے مشران خپل او اللّٰه تعالیٰ حکم کړے دے مونږ ته دَ دے اُوایه یقیناً اللّٰه تعالیٰ حکم نه کوی دَ بدکار ایاجوړوئ تاسو په اللّٰه تعالیٰ باندے هغه خبرے چه تاسو پرے نه پوهیږئ (۲۸) اُوایه حکم کړے دے رب ځما په انصاف سره اوبرابر کړئے مخونه خپل اللّٰه تعالیٰ ته په وخت دهره سجده کښ او دُعاغواړئ دَهغه نه اخلاص کؤونکی یئ هغه ته دَ بلنے لکه چه اللّٰه تعالیٰ اول پیدا کړی یئ نودوباره به را اوګرځئ تاسو (۲۹) یودلے ته هدایت ئے کړیدے اوبله ډله باندے پوره شوے ده ګمراهی یقیناً دوی نیولی دی

[۲۷] دا دویم خطاب دے په دَیکښ منع ده دَ اتباع دَ شیطان نه په تحریم دَ حلال کښ او رد دے په دلیل دَ مشرکانوباندے ﴿لَايَفْتِنَنَّكُمُ﴾ مراد دَ دے نه ګمراه کول دی په طریقه دَ تحریم دَ حلال سره اودا شرك فعلی دے ﴿كَمَآ اَخْرَجَ﴾ نه مخکښ عبارت پټ دے بتحریم اللباس فی الطواف (په حرامولودَ لباس سره په حال دَ طواف کښ) اوپه دے کښ هغه پیران هم داخل دی چه پخپلومریدانوباندے بعض جائز لباس حراموی اوهغه خلق هم داخل دی چه په وخت دَ ګډا اودَ ډانس کښ جامے او باسی۔ دَ اخرج اوینزع اوئیرَ نسبتونه ابلیس ته په طریقه دَ سببیت سره دی ﴿مِنْ حَيْثُ﴾ نه مراد شکل اصلی سره لیدل دی نوکوم چه روایاتو کښ دَ ابلیس اودَ جناتولیدل راغلی دی نومراد دَ هغے نه شکل مثالی دے اوبعض علماؤ وئیلی دی چه هغه لیدل خاص کړے شوی دی دَ عموم دَ دے ایت نه۔

[۲۸] ﴿فَاحِشَةً﴾ دا لفظ خوعام دے هره بدکار ئے ته شامل دے، لیکن دلته اشاره ده چه مشرکین عرب به طواف دَ بیت اللّٰه په بر بنډه باندے کوو نارینودَ ورځے او زنانودَ شپے اوپه خپل عورت خاصه باندے به ئے مخکښ او روستولاس کیخودلی وؤ۔ دوی په حال دَ حج کښ جامه په ځان حرامه ګڼرله او غوړخوراك ئے حرام کړے وؤ۔ اودا تحریمات دَ غیراللّٰه دی نوپدے ایت کښ رد دے په دوه دلیلونودَ مشرکانوباندے اول دلیل اتباع دَ مشرانودویم اللّٰه تعالیٰ ته نسبت کول۔ اول دلیل خو بنکاره باطل دے دَ هغے رد ته حاجت نیشته اوپه دویم دلیل باندے تفصیلی ردکوی اول دا چه ﴿قُلْ اِنَّ﴾ دویم دا چه ﴿اَتَقُوْلُوْنَ﴾ یعنی دا افتراء ده ﴿مَالَاتَعْلَمُوْنَ﴾ مراد دَ علم نه دلیل دَ قرآن اودَ حدیث دے نوهغه چه چا سره نه وی او وائي قال اللّٰه اوامر اللّٰه نودا دروغ جوړول دی په اللّٰه تعالیٰ۔

[۲۹] دا دریم دلیل دے په رد دَ دلیل دَ مشرکانو کښ۔ مطلب دا دے اللّٰه تعالیٰ چه حکم کوم کړے دے دَ هغے پابندی کوئے ﴿بِالْقِسْطِ﴾ قسط په اصل کښ حصه ده یعنی حقدارته دَ هغه مناسب حصه ورکول نودَ اللّٰه تعالیٰ مناسب حصه توحید دے دا نقل دیے دَ ابن عباس رضی اللّٰه عنهما نه ﴿وَاَقِيْمُوْا﴾ دَ دے سره للّٰه مراد

الشَّيٰطِيْنَ اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَيَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ مُّهْتَدُوْنَ ﴿٣٠﴾ يٰبَنِيْٓ اٰدَمَ خُذُوْا زِيْنَتَكُمْ عِنْدَ
كُلِّ مَسْجِدٍ وَّكُلُوْا وَاشْرَبُوْا وَلَا تُسْرِفُوْا ۚ اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِيْنَ ﴿٣١﴾ قُلْ مَنْ حَرَّمَ زِيْنَةَ اللّٰهِ
الَّتِيْٓ اَخْرَجَ لِعِبَادِهٖ وَالطَّيِّبٰتِ مِنَ الرِّزْقِ ۭ قُلْ هِيَ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا خَالِصَةً يَّوْمَ

شیطانان دوستان (دَ تابعدارئے) سیوا دَ اللّٰہ تعالیٰ نه اوګمان کوی دوی چه دوی لارموندونکی دی (۳۰) اے بنیادمو اونیسئے ډول خپل په وخت دَ هر مانځه کښ اوخورئے اوڅکئے اودَحدنه زیاتے مه کوئ یقیناً اللّٰہ تعالیٰ محبت نه کوی دحدنه زیاتے کؤونکو سره (۳۱) اُوایه چا حرام کړے دے ډول دَ اللّٰہ تعالیٰ هغه چه حلال کړے دے بندګانو خپلو لره اوپاك حلال رزقونه اُوایه دا حق دے مؤمنانو دپاره په ژوند دَ دُنیا کښ (په شرکت سره) یوائے به وی دوی لره په روز

دے ﴿مَسْجِدٍ﴾ مراد دَ دے نه سجده ده یعنی سجده اللّٰہ تعالیٰ لره خاص کړئے دا هم رد دے په مشرکانو باندے چه سجدے غیراللّٰہ ته کوی یا دَ مسجد نه مراد جماعت اوڅائے دَ مونځ کولو دے نومعنیٰ دا ده چه خاص کعبے ته مخونه ګرځوے په هرڅائے دَ مانځه کښ ﴿وَادْعُوْهُ﴾ په دے کښ رد دَ شرك فی الدعا دے۔ ﴿مُخْلِصِيْنَ﴾ مراد دَ اخلاص نه بچ کول دی دَ شرك اوتشبیه نه ﴿كَمَا بَدَاَكُمْ﴾ په دے کښ تخویف دے په بعث بعد الموت سره او دَ لفظ دَ ګَمَا فائده دا ده چه برښلو او بے پیژاره اوناسته به پیداکولے شئے لکه چه اول پیدائش هم داسے وؤ۔

[۳۰] ﴿فَرِيْقًا﴾ حال دے دَ تعودون دَ ضمیرنه یا دَ ضمیر دَ بدء کم نه اومراد دا دے چه دَ چا په تقدیرکښ هدایت دے اودَ چاګمراهی ده نوپه قیامت کښ به دوه ډلے وی ﴿اِنَّهُمُ اتَّخَذُوا﴾ دا متعلق دے دَ روستو فریق سره یعنی دَګمراهئ سبب صرف تقدیرنه دے بلکه تابعداری دَ شیطانانو ده۔

[۳۱] دا دریم خطاب دے په رد دَ شرك فعلی کښ چه دَ هرمسجد په خواکښ دَ جامے استعمال ضرورکوئے که مسجد حرام وی اوکه نور مساجد وی که دَ طواف په وخت کښ وی اوکه دَ مانځه په وخت کښ وی دَ دے ایت نه معلومه شوه چه عورت پټول په وخت دَ مانځه اودَطواف کښ فرض دی اوتعبیر ئیے په زینت سره اوکړو اشاره ده چه دَ عورت پټولونه علاوه مونځ په پاکواوصفا جاموکښ کول غوره دی په نسبت دَ دے چه دَکاریا دَ شپے په لباس کښ کوی اوڅان ترینه خلاصوی۔ اوعادتاً نوراندامونه پټول هم پکاردی لکه سینه، شا، سروغیره اومقصد په دیکښ رد دے په هغه چا باندے چه جامے ویستل ئے ثواب ګنړلو ﴿وَكُلُوْا﴾ پدیکښ هم مقصود ردکول دی په هغه چا باندے چه په حالت دَ حج کښ خوراك (زیادت دَ قوت) اوغوړی په ځان باندے حرام کړی وؤ ﴿وَكُلُوْا وَاشْرَبُوْا﴾ خوراك اوڅښکاك په قدر دَ حاجت فرض دی دَ پاره دَ حفاظت دَ بدن اودپاره دَ قوت په عبادت کولوباندے ﴿وَلَا تُسْرِفُوْا﴾ اسراف په خوراك ځښکاك اولباس کښ درے قسمه دے (۱) دَ حاجت نه زیاتے کول (۲) حرام شے خوړل اواغوستل (۳) حلال په ځان باندے حرام کول، چه دا شرك فعلی دے۔

الْقِيٰمَةِ ؕ كَذٰلِكَ نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ﴿٣٢﴾ قُلْ اِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّيَ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا
بَطَنَ وَالْاِثْمَ وَالْبَغْيَ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَاَنْ تُشْرِكُوْا بِاللّٰهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهٖ سُلْطٰنًا وَّاَنْ تَقُوْلُوْا عَلَى
اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿٣٣﴾ وَلِكُلِّ اُمَّةٍ اَجَلٌ ۚ فَاِذَا جَآءَ اَجَلُهُمْ لَا يَسْتَاْخِرُوْنَ سَاعَةً وَّلَا يَسْتَقْدِمُوْنَ ﴿٣٤﴾
يٰبَنِيْٓ اٰدَمَ اِمَّا يَاْتِيَنَّكُمْ رُسُلٌ مِّنْكُمْ يَقُصُّوْنَ عَلَيْكُمْ اٰيٰتِيْ ۙ فَمَنِ اتَّقٰى وَاَصْلَحَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ

دَ قیامت دغسے په تفصیل سره احکام بیانوو مونږ دَهغه قوم دپاره چه پوهیږی (۳۲) اُوایه یقیناً حرام کړی دی رب ځما بدکارونه هغه چه ښکاره وی دَ دینه اوهغه چه پټ وی اوهرګناه اوظلم کول په ناجائز سره اوشریك جوړول اللّٰه تعالیٰ سره هغه څوك چه نه دے نازل کړے اللّٰه تعالیٰ په هغے څه دلیل او جوړول ستاسو په اللّٰه تعالیٰ باندے هغه خبرے چه تاسو پرے نه پوهیږئ (۳۳) اودپاره دَهرے ډلے (دَ عذاب) یونیټه وی پس کله چه راشی نیټه دَ دوی (نوعذاب به ورکړیشی) نه به روستو کیدے شی یوساعت اونه به مخکے کیدے شی(۳٤) اے بنیادمو که راغلل تاسوته رسولان ستاسونه بیانوی په تاسو باندے آیاتونه ځما پس چاچه ځان بچ کړو دَشرك نه اوعمل ئے اوکړو په سنت باندے پس نه به وی هیڅ ویره په دوی باندے

[۳۲] دا هم رد دے په تحریم دَ غیراللّٰه باندے چه اللّٰه تعالیٰ نه دی حرام کړی نوبل چا حرام کړل؟ زینت نه مراد جامه ده په جائزاومناسب طریقه﴿لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا﴾ یعنی دا حق دے دَ ایمان والواومشرکین چه دا نعمتونه استعمالوی نوپه نا حقه استعمال کوی۔ ځکه چه اللّٰه تعالیٰ انعامات کړیدی نوایمان اوتوحید والودَ هغے حق اداکړیدے اومشرکینودا حق نه دے اداکړے ﴿خَالِصَةً﴾ پدیکښ عبارت پټ دے (یخلص اللّٰه هذه الطیبات خالصة للمؤمنین یوم القیامة) (یعنی خالص به کړی اللّٰه تعالیٰ دا طیبات مؤمنانولره خاص په ورځ دَ قیامت) اودا قول دَ عاموسفسرینودے ﴿نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ﴾ مراد دا چه تفصیل دَ احکامودَ توحید په قرآن کښ موجود دے لکه په دے تیر شوی آیاتونو کښ۔

[۳۳] دا ذکردَ تحریماتودَ اللّٰه تعالیٰ دیے په مقابله دَ تحریم دَ غیراللّٰه کښ اودیته اصول دَ تحریماتو وئیلے شی ځکه دا په ټولو ادیانو سماویوکښ حرام دی ﴿الْفَوَاحِشَ﴾ عام دے هغه ټولوګناهونو ته چه ګناه کیدل ئے هرعقل والا ته ښکاره دی لکه زنا، دروغ وغیره ﴿الْاِثْمَ﴾ په حقوق اللّٰه کښ خلاف کول دی ﴿وَالْبَغْيَ﴾ په حقوق العبادکښ ګناه کول بغیردَ حق نه اوهر چه بغي بالحق ده نو هغه جهاد فی سبیل اللّٰه دے۔

[۳٤] جواب دَ سوال دے چه هرکله دوی دَ اللّٰه تعالیٰ دَ تحریماتوخلاف کوی نوپه دوی باندے ولے عذاب نه راځی جواب دا دے چه دَ هغے دپاره مقرره نیټه ده اودا ایت دلیل دے چه څوك او وڅلے شونوهغه په خپله نیټه باندے مړشوے دے اوقاتل له سزا په دے وجه ده چه دَ اللّٰه تعالیٰ دَ حکم خلاف ئے کړیدے۔

وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿٣٥﴾ وَالَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَاسْتَكْبَرُوْا عَنْهَآ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا
خٰلِدُوْنَ ﴿٣٦﴾ فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا اَوْ كَذَّبَ بِاٰيٰتِهٖ ۭ اُولٰٓئِكَ يَنَالُهُمْ نَصِيْبُهُمْ مِّنَ
الْكِتٰبِ ۭ حَتّٰٓى اِذَا جَاۗءَتْهُمْ رُسُلُنَا يَتَوَفَّوْنَهُمْ ۙ قَالُوْٓا اَيْنَ مَا كُنْتُمْ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۭ
قَالُوْا ضَلُّوْا عَنَّا وَشَهِدُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ اَنَّهُمْ كَانُوْا كٰفِرِيْنَ ﴿٣٧﴾ قَالَ ادْخُلُوْا فِيْٓ اُمَمٍ قَدْ خَلَتْ مِنْ

اونه به دوی غمژن کیږی(۳۵) اوهغه کسان چه دروغژن کوی اياتونه زمونږ اولوئی کوی دَ هغے نه دغه کسان اُور والادی دوی به په هغے کښ همیشه وی (۳۶) پس څوك ډیر ظالم دے دَهغه چانه چه جوړوی په اللّٰه تعالیٰ باندے دروغ یادروغژن ګڼړی آياتونه زمونږ دغه کسان اوبه رسی دوی ته برخه دَ دوی دَ لیکلے شوے (دَعمر اوروزئے نه) په تقدیر کښ ترهغے چه کله راشی دوی ته ملائك زمونږ سااخلی دَ دوی نه دوی به ورته وائی څه شوهغه کسان چه تاسو به بلل په مصیبتونو کښ سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه (اوس ئے را اوبلئ) دوی به وائی روك شول ځمونږ نه اواقرار به اوکړی په ځانونو خپلو چه یقیناً دوی ؤو منکران دَ توحید نه (۳۷) اوبه وائی اللّٰه تعالیٰ داخل شئے په هغه ډلو کښ چه تیرے شوی دی

[۳۵] دا ځلورم خطاب دے دپاره دَ بیان دَ معیاردَ جنت او جهنم اودَ خطاب په اول کښ قلنا پټ دے مطلب دا دے چه کله آدمﷺ راکوز شونو هغه وخت نه دا خطاب دَ هغه اولاد ته متوجه دے نوهغه سلسله دَ رسالت جاری وه په محمد رسول اللّٰهﷺ باندے ختم شوه۔ سوال: دا ایت خو دلالت کوی چه دَ رسولانودَ راتللوسلسله دَ قرآن نه روستو هم جاری ده؟ جواب: محکښ مونږذکرکړی دی چه دا خطابات ځلور په هغه وخت کښ وؤ چه آدمﷺ ئیے راکوزکړو پدے قرینے سره چه داسے مضمون والا ایت په سورة بقره (۳۸) اوسورة طٰهٰ (۱۲۳) کښ هم ذکر دے دپاره دَ غایة تشریعی دَ اهباط، نودَ دے وجے نه دَ دے په ابتداء کښ قلنا پټ دے۔

[۳۶] دا تخویف دے روستودَ بشارت نه۔ تکذیب مقابل دے دَ تقویٰ۔ اواستکبار مقابل دے دَ اصلح۔ یا تکذیب په ژبے سره دے اواستکبارپه زړه سره دے۔

[۳۷] دا دریم باب دے تر(۵۳) پورے په دے کښ اول زورنه ده بیا تخویف دے په بیان دَ حالاتودَ زنکدن اوبرزخ اوبیا دَ اخرت بیا زیرے دے اُخروی بیا مکالمه دَ اصحاب اعراف او اخرکښ رد دے دَ شفاعت قهریه۔ په دے (۳۷)کښ ذکردے زجریه افتراء کوونکوبیا ذکردے دَ حالت دَ نزع اوبرزخ اوپه هغے کښ رد دے دَ شرك فی الدعاء ﴿اَفْتَرٰى﴾ مراد دَ دے نه نسبت دَشریك او ولد دے اللّٰه تعالیٰ ته ﴿اَوْ كَذَّبَ بِاٰيٰتِهٖ﴾ مراد دَ دے نه هغه کسان دی چه په(۳۶)کښ ذکرشول ﴿نَصِيْبُهُمْ﴾ هر انسان دپاره په تقدیرکښ عمر او رزق اواعمال مقررشویدی هغه دَ دهٔ حصه ده ﴿مِنَ الْكِتٰبِ﴾ مراد دَ دے نه کتاب دَ تقدیر دے ﴿رُسُلُنَا﴾ اشاره ده چه په وخت دَمرګ کښ ډیرملائك راځی هاں روح یوملك قبض کړی او بیا ئیے نوروملائکوته اوسپاری لکه چه حدیث کښ ذکردی دَ دے وجے نه په سورة سجده (۱۱)کښ یوملك ذکردے ﴿قَالُوْا﴾ دا زجراً وینا ده﴿ضَلُّوْا عَنَّا﴾ اشاره ده چه دَ دوی معبودان چه صالحین وؤ هغه دَ دوی دَ دُعانه ناخبر وؤ دَ دے وجے نه هغوی دَ دوی نه به غائب وی ﴿اَنَّهُمْ كَانُوْا كٰفِرِيْنَ﴾ دا دلیل دے چه دُعا دَ غیراللّٰه نه کفردے دَ دے

قَبْلِكُمْ مِّنَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ فِي النَّارِ ؕ كُلَّمَا دَخَلَتْ اُمَّةٌ لَّعَنَتْ اُخْتَهَا ؕ حَتّٰۤى اِذَا ادَّارَكُوْا فِيْهَا
جَمِيْعًا ۙ قَالَتْ اُخْرٰىهُمْ لِاُوْلٰىهُمْ رَبَّنَا هٰۤؤُلَآءِ اَضَلُّوْنَا فَاٰتِهِمْ عَذَابًا ضِعْفًا مِّنَ النَّارِ ؕ قَالَ
لِكُلٍّ ضِعْفٌ وَّلٰكِنْ لَّا تَعْلَمُوْنَ ﴿۳۸﴾ وَقَالَتْ اُوْلٰىهُمْ لِاُخْرٰىهُمْ فَمَا كَانَ لَكُمْ عَلَيْنَا مِنْ فَضْلٍ فَذُوْقُوا
الْعَذَابَ بِمَا كُنْتُمْ تَكْسِبُوْنَ ﴿۳۹﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَاسْتَكْبَرُوْا عَنْهَا لَا تُفَتَّحُ لَهُمْ اَبْوَابُ
السَّمَآءِ وَلَا يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ حَتّٰى يَلِجَ الْجَمَلُ فِيْ سَمِّ الْخِيَاطِ ؕ وَكَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُجْرِمِيْنَ ﴿۴۰﴾

مخکے ستاسونه دَ پیریانو اوانسانانونه په اُورکښ هروخت چه داخل شی یوه ډله لعنت به کوی په ملګرو خپلو تردے چه کله یوځائے شی په هغے کښ ټول اوبه وائی روستنی خلق دَ دوی (مریدان) په باره دَمخکنو (پیرانو) کښ اے ربه زمونږ دے کسانو بے لارے کړی یومونږ پس ورکړه دوی ته عذاب دوچند دَ اُورنه اوبه وائی اللّٰه تعالیٰ هریولره دوچند عذاب دے اولیکن نه پوهیږئ تاسو(۳۸) او اوبه وائی مخکنی دَهغوی روستنوته پس نیشته تاسو لره په مونږ باندے څه احسان پس اوځکئے عذاب په سبب دَهغه چه تاسو کول(۳۹) یقیناً هغه کسان چه دروغژن کړی دی ایاتونه زمونږ اوځان ئے لوئے ګنړلے دَهغے نه نه به شی پرانستلے کیدے دَ دوی ارواحوته دروازے دَآسمان اونه به داخل شی جنت ته تردے چه ورننوځی اوښ په سوم دَ ستن کښ او دغسے سزاورکړو مونږ مجرمانوته (۴۰)

(۳۷) ایت نه معلومه ده چه مشرك ته په وخت دَ زنکدن کښ وئیلے کیږی چه خپل مددګاران را اوبله که هغوی درسره مدد کولے شی۔ لیکن هغه معبودان نه په جسمانی اونه په روحانی طریقه امداد کولے شی۔

[۳۸] دے ایت کښ حال دَ برزخ دے اوخطاب ارواحوته دے یا دا حال دَ حشردے اوخطاب به په ورځ دَ قیامت وی او دا ایتونه په باره دَ مشرکانو پیرانواوملایانوکښ دی چه هغوی به دَ خپلو مریدانو او مقتدیانو سره دا مکالمه کوی ﴿اُخْتَهَا﴾ نه مراد مشابه دی په شرك اوکفرکښ اوتعبیر په مؤنث سره دَ سپکوالی دپاره دے ﴿ضِعْفًا﴾ یوعذاب دَ خپلے ګمراهئ اوبل عذاب دَ ګمراه کولوځکه چه حدیث کښ راغلی دی چا چه دعوت اوکړو ګمراهئی ته نوپه هغه باندے به دَ خپل ګناه نه علاوه ګناه دَ تابعدارئ کوونکودَ هغه وی ﴿لِكُلٍّ ضِعْفٌ﴾ دَ عذاب دَ تابعدارو دپاره هم دوه وجے دی یوګمراهی قبلول او بل تقلیدکول دَګمراهانواشاره ده چه دَ جهل دَ وجے تقلیدپه کفراوشرك کښ عذرنه دے هاں ضعف دَ عذاب دَ مشرانوبه پیروی په سبب دَ پیروالی دَ تابعدارانوسره۔

[۳۹] ﴿مِنْ فَضْلٍ﴾ ستاسوپه مونږځه احسان نیشته ځکه که مریدانودوی له تحفے ورکړیدی نوپیرانوورله لنګرے ورکړی دی یا ستاسوپه مونږځه غوره والے نیشته تاسوهم زمونږپه شان ګنهګارئے اودا دوی ته دَ لِكُلٍّ ضِعفٌ نه معلومه شوه ﴿تَكْسِبُوْنَ﴾ کسب هغه عمل ته وئیلے شی چه همیشه کیږی یعنی مشرکانو خپل شرکی عملونه همیشه کول۔

[۴۰] مخکښ ایتونوکښ ذکر دَ دخول دَ دوی ووَ جهنم ته اوس دے ایتونوکښ ذکردَ محروم کیدلودَ دوی دے دَ جنت نه ﴿لَا تُفَتَّحُ لَهُمْ﴾ یعنی دَ مؤمنانودَ اعمالواو دُعا ګانو اودَ ارواحو دپاره خو دروازے دَ

لَهُمْ مِّنْ جَهَنَّمَ مِهَادٌ وَّمِنْ فَوْقِهِمْ غَوَاشٍ ۭ وَكَذٰلِكَ نَجْزِي الظّٰلِمِيْنَ ﴿٤١﴾ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا
وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَا نُكَلِّفُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَآ ۡ اُولٰۗىِٕكَ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿٤٢﴾
وَنَزَعْنَا مَا فِيْ صُدُوْرِهِمْ مِّنْ غِلٍّ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهِمُ الْاَنْهٰرُ ۚ وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ هَدٰىنَا
لِهٰذَا ۣ وَمَا كُنَّا لِنَهْتَدِيَ لَوْلَآ اَنْ هَدٰىنَا اللّٰهُ ۚ لَقَدْ جَاۗءَتْ رُسُلُ رَبِّنَا بِالْحَقِّ ۭ وَنُوْدُوْٓا اَنْ
تِلْكُمُ الْجَنَّةُ اُوْرِثْتُمُوْهَا بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿٤٣﴾ وَنَادٰٓى اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ اَصْحٰبَ النَّارِ اَنْ قَدْ

دپاره دَ دوی دَ جهنم نه تولایانے به وی او دپاسه دَ دوی به برستنے (دَ اور) وی اودغسے سزا ورکؤو مونږ ظالمانوته (٤١) اوهغه کسان چه ایمان ئے راوړیدے اوعملونه ئے کړیدی په طریقه دَ نبی تکلیف نه ورکوو مونږ هیڅاته مګر په قدر دَوس دَ هغه دغه کسان جنت والا دی دوی به په هغے کښ همیشه وی(٤٢) او اوبه باسو مونږ هغه چه په سینو دَ دوی کښ دے څه خفګان بهیږی به لاندے دَبنګلو دَ دوی نه ولے او وائی به دوی صفتونه دَخدائیتوب اللّٰه تعالیٰ لره دی هغه ذات دے چه رااورسولوئیے مونږ دے ځائے ته اومونږ نهٔ شو رارسیدلے دلته که نه رارسولے مونږ لره اللّٰه تعالیٰ یقیناً راغلی ؤو رسولان دَ رب زمونږ په حق بیان سره او اوازبه اوکړیشی دوی ته چه داجنت دے درکړے شوے دے تاسوته په وجه دَ هغه عمل چه تاسو کوؤ(٤٣) اواواز به اوکړی جنت والا اُور والوته چه یقیناً

اسمان پرانستے کیږی اودَکافرانودپاره نه پرانستے کیږی بلکه حدیث کښ راغلی دی چه دَکافر روح چه دروازے دَ اسمان ته اوخیژوی نو واپس ئیے ښکته سجین ته راګوزارکړی اوهغے ته روح خبیث وئیلے شی ځنګه چه دَ اوښ ورننوتل په سوم دَ سته کښ ممتنع دی نودارنګ دَ دے مشرکانو جنت کښ داخلیدل ممکن نه دی اودے ته تعلیق بالمحال وئیلے کیږی۔

[٤١] دا هم په تخویف اُخروی کښ داخل دے﴿مِهَادٌ﴾ هغه بستره چه غوړیدلے وی دپاره دَ سملاستلواوغَواش هغه چه دَپاسه نه ئیے پتوی اودا اشاره ده چه اوردَ جهنم به په دوی باندے احاطه کړے وی دَ هرطرف نه مجرمین ئیے دَ حرمان سره ذکرکړو اوظالمین ئیے دَ احاطے سره ذکرکړو ځکه چه ظلم غټ ګناه دے دَ جرم نه۔

[٤٢] دا زیرے اُخروی دے ﴿لَانُكَلِّفُ نَفْسًا﴾ دا جمله معترضه ده چه ایمان اوعمل صالح ستاسودَ وس نه بهرنه دی او اشاره ده چه مؤمن دپاره ضروری دی چه خپل وس اوطاقت دَ جنت دَ حصول دپاره خرچ کړی۔

[٤٣] مطلب دا دے چه که څوك اُوائي چه په جنت کښ چه دَ یوبل نه درجے اوچتے وی نولاندے درجے والا به خفه کیږی او دیته غِل وئیلے شی۔ نوجواب اوشوچه دا طبعی خفګان به اللّٰه تعالیٰ دَ دوی دَ زړونونه اوباسی داسے په سورۃ حجر(٤٧) کښ هم دی ﴿هَدٰىنَا لِهٰذَا﴾دے ایت کښ دَ هدایت اخری مرتبه مراد ده چه هغه جنت ته داخلول دی ﴿بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ﴾ سوال: حدیث کښ راغلی دی چه جنت ته په عمل نه شی داخلیدلے بلکه په رحم دَ اللّٰه تعالیٰ به داخلیږی؟ جواب: یوتوجیه دا ده چه هلته دَ رحمت نه مراد

وَجَدْنَا مَا وَعَدَنَا رَبُّنَا حَقًّا فَهَلْ وَجَدْتُّمْ مَّا وَعَدَ رَبُّكُمْ حَقًّا ؕ قَالُوْا نَعَمْ ۚ فَاَذَّنَ مُؤَذِّنٌۢ
بَيْنَهُمْ اَنْ لَّعْنَةُ اللّٰهِ عَلَى الظّٰلِمِيْنَ ۙ﴿٤٤﴾ الَّذِيْنَ يَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَيَبْغُوْنَهَا عِوَجًا ۚ
وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ كٰفِرُوْنَ ﴿٤٥﴾ وَبَيْنَهُمَا حِجَابٌ ۚ وَعَلَى الْاَعْرَافِ رِجَالٌ يَّعْرِفُوْنَ كُلًّا بِسِيْمٰهُمْ ۚ
وَنَادَوْا اَصْحٰبَ الْجَنَّةِ اَنْ سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ ؕ لَمْ يَدْخُلُوْهَا وَهُمْ يَطْمَعُوْنَ ﴿٤٦﴾ وَاِذَا صُرِفَتْ اَبْصَارُهُمْ

موندلے دے مونږ هغه (جنت) چه وعده کړے وه مونږ سره رب زمونږ حقه پس ایا اوموندو تاسو هغه (اور) چه وعده کړیده رب ستاسو حقه اوبه وائی دوی هاؤپس اعلان به اوکړی یواعلان کؤونکے په مینځ دَ دوی کښ چه لعنت دَ اللّٰه تعالیٰ دے په ظالمانو باندے (٤٤) هغه کسان چه منع کول ئے خلق دَ لار دَ اللّٰه تعالیٰ نه اولټوی په هغے کښ کوکوالے (په شکونو اچولو) او دوی دَ آخرت نه منکردی (٤٥) اوپه مینځ دَ دوی کښ به پرده وی اوپه اوچت ځائے دَ دے حجاب به څه کسان وی چه پیژنی به هریولره په نخو دَهغوی اوآوازبه اوکړی دِوی جنت والوته چه سلام دوی په تاسو باندے نه دی داخل شوی (دا اعراف والا) جنت ته او دوی طمع لری(٤٦) اوکله چه واړولے شی نظرونه دَ دوی

توحید دے اودے ایت کښ دَ ما تَعمَلُونَ نه مراد هم توحید دے، بله توجیه دا ده چه رحمت سبب باطنی دے اوعمل سبب ظاهری دے ﴿غِلٌّ﴾ دا بے اختیاره خفګان دے نوګناه نه دے په دے شرط چه حسد اوبغض ته اونه رسیږی ﴿لَقَدْ جَآءَتْ﴾ دا ذکردَ سبب دَحصول دَ جنت دے په طوردَ خوشحالئ سره﴿اُوْرِثْتُمُوْهَا﴾ ذکردَ میراث اومراد ترینه استحقاق دے پشان دَ میراث چه حق دَ وارث دے۔

[٤٤] دَ دے اوازونودَ وجے نه دَ دے ورځ یونوم یوم التناد دے لکه په سورة مؤمن(٣٢)کښ دی اودیته یوالاذان هم وائي ﴿مَاوَعَدَ رَبُّكُمْ حَقًّا﴾ مراد هغه دی چه دَ (٣٧) نه تر(٤١) پورے تخویفات ذکرشول کافران به دَ هغے اقراراوکړی اودَ هغے وعیدونواختتام ئے په الظالمین سره کړے وؤنودَ لعنت سره ئے هم ظالمین ذکرکړو۔

[٤٥] دا تفسیردَ هغه ظلم دے چه په هغے سره دوی مستحق دَ دغه عذابونواوګرزیدل ﴿عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ﴾ عام دے توحید ایمان، قرآن اوسنت ته دَ هغے نه منع کول غټ ظلم دے ﴿عِوَجًا﴾ په معنیٰ دَ معجوجة دے یعنی لټوی کړه لار۔ یا یبغونها په معنیٰ دَ یبغون فیها دے عوجا په خپله معنیٰ دے یعنی لټوی په دغه حقه لارکښ کوږوالے په شبهاتواوطعنونوسره۔ اوعِوج په زیردَ عین سره استعمالیږی په دین اومعنوی څیزونو کښ اوپه زوردَ عین سره استعمالیږی په اجساموکښ۔

[٤٦] دے حجاب ته سور (دیوال) هم وائي لکه سورة حدید (١٣)کښ، اودَ دے پورته حصے ته اعراف وائي، دَ دے ځائے نه دَ اعراف والودوه ندا ګانے ذکرکوی اوله نداء جنت والوته۔ دَ اعراف دَ اوسیدونکوپه باره کښ دَ مفسرینولس اقوال دی غوره قول په هغے کښ چه حدیث مرفوع ابن کثیر نقل کړیدے دا دے چه دا هغه خلق (مؤمنان) دی چه نیك اعمال اوبد اعمال ئے برابر وی نوځه وخت پورے به دوی دَ جنت نه حصارکړے شی اودَ جهنم نه به ئے بچ ساتی لکه پدے ایت لم یدخلوهاکښ ذکردے بیا به ئے روستو جنت ته داخل کړی لکه چه په(٤٩) کښ راځی﴿بِسِيْمَاهُمْ﴾ نخے دَ جنت والوسپین مخونه اولاسونه او خپے۔

تِلْقَآءَ اَصْحٰبِ النَّارِ ۙ قَالُوْا رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا مَعَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٤٧﴾ وَنَادٰٓى اَصْحٰبُ الْاَعْرَافِ
رِجَالًا يَّعْرِفُوْنَهُمْ بِسِيْمٰهُمْ قَالُوْا مَآ اَغْنٰى عَنْكُمْ جَمْعُكُمْ وَمَا كُنْتُمْ تَسْتَكْبِرُوْنَ ﴿٤٨﴾ اَهٰٓؤُلَآءِ
الَّذِيْنَ اَقْسَمْتُمْ لَا يَنَالُهُمُ اللّٰهُ بِرَحْمَةٍ ؕ اُدْخُلُوا الْجَنَّةَ لَا خَوْفٌ عَلَيْكُمْ وَلَآ اَنْتُمْ تَحْزَنُوْنَ ﴿٤٩﴾
وَنَادٰٓى اَصْحٰبُ النَّارِ اَصْحٰبَ الْجَنَّةِ اَنْ اَفِيْضُوْا عَلَيْنَا مِنَ الْمَآءِ اَوْ مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ ؕ قَالُوْٓا اِنَّ
اللّٰهَ حَرَّمَهُمَا عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ﴿٥٠﴾ الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا دِيْنَهُمْ لَهْوًا وَّلَعِبًا وَّغَرَّتْهُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا ۚ

طرف دَ اور والوته دوی به اُوائی اے ربه مه ګرځوے مونږ سره دَ قوم ظالمانونه(په اُورکښ)(٤٧) او اوازبه اوکړی اعراف والا هغه کسانوته (په جهنم کښ) چه پیژنی به هغوی لره په نخو دَهغوی اوبه وائی څه فائده درکړه تاسو ته جمع کولو ستاسو اوهغه چه تاسوپه هغے لوئی کوله(٤٨) (اوبه وائی ملائك کافرانوته) ایاداهغه کسان دی چه تاسو به قسم کوؤ چه اوبه نه رسوی دوی ته اللّٰه تعالیٰ هیڅ رحمت (اوبه وئیلے شی اعراف والوته) داخل شئے جنت ته نه به وی هیڅ ویره په تاسو باندے اونه به تاسو خفه کیږئ(٤٩) او اوازبه اوکړی اور والاجنت والوته چه راتوے کړئے په مونږ باندے دَ اوبو دَ جنت نه یا(رااوغورځوئ) دَهغے نه چه درکړی دی تاسو ته اللّٰه تعالیٰ دوی به اُوائی یقیناً اللّٰه تعالیٰ منع کړی دی دادواړه په کافرانو باندے(٥٠)هغه کسان دی چه جوړکړے دین خپل مشغله اولوبے اودهوکه کړی ووُ دوی لره ژوند دُنیوی

اونخے دَ جهنم والوتورمخونه او زیږے سترګے ﴿اَنْ سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ﴾ دا په طریقه دَ سلام تحیه سره دے یا جمله خبریه ده یعنی بچ ئیے تاسودَ افاتواودَ اُوردَ جهنم نه ﴿وَهُمْ يَطْمَعُوْنَ﴾ وچه دَ طمع دا ده چه دَ اُور والا سره ئیے نه دی یو ځائے کړی نوطمع دَ جنت ئیے پیدا شوه۔

[٤٧] اشاره ده په صیغه دَ مجهول کښ چه دوی په خپله رضا سره جهنم طرفته نه ګوری اللّٰه تعالیٰ به دَ دوی مخونه بغیردَ اختیاردَ دوی نه اُورطرفته اوګرځوی نودوی به اویریږی هسے نه چه اللّٰه تعالیٰ موټره جهنم ته بوزی نودُعا به اوغواړی رَبَّنَا اه۔

[٤٨] دا دویمه ندا ده دَ اعراف والوجهنمیانوته ﴿رِجَالاً﴾ مراد دَ دے نه مالداراومتکبرین دی چه منکروؤدَ توحیدنه ﴿مَآ اَغْنٰى﴾ مانافیه یا استفهامیه دے﴿جَمْعُكُمْ﴾ نه مراد جمع کول دَ مالونویا ډلے دَ ملګرودی ﴿وَمَا كُنْتُمْ تَسْتَكْبِرُوْنَ﴾ مراد دَ دے نه جاه دَ دُنیا یا تابعداران (مریدان وغیره) دی۔

[٤٩] دا قول دَ ملائکودے خطاب دے جهنم والوته ﴿اُدْخُلُوْا﴾ دا قول دَ ملائکودے اصحاب اعراف ته۔ ﴿اَقْسَمْتُمْ﴾ لکه په سورة انعام (٥٣) اودَ سورة تطفیف (٢٩) نه تردَ (٣٢) پورے۔

[٥٠] دا ځلورمه ندا ده هرکله چه اعراف والادَ مینځ نه لرے شول۔ دا دلیل دے چه په جهنم والوباندے لوګه اوتنده راوستلے شی اودَ جنت دَ نعمتونونه دوی همیشه محرومه دی ﴿مِمَّا رَزَقَكُمُ﴾ مراد دَ دے نه نور مشروبات دَ جنت دی نوافیضوا سره متعلق دے یا مراد دَ دے نه دَ خوراك څیزونه دی اوالقُوا پټ دے۔ ﴿حَرَّمَهُمَا﴾ مراد دَ دے نه تحریم لغوی دے یعنی منع کول ځکه چه په قیامت کښ تحریم اوتحلیل شرعی نیشته۔

فَالْيَوْمَ نَنْسٰىهُمْ كَمَا نَسُوْا لِقَآءَ يَوْمِهِمْ هٰذَا ۙ وَمَا كَانُوْا بِاٰيٰتِنَا يَجْحَدُوْنَ ﴿٥١﴾ وَلَقَدْ جِئْنٰهُمْ بِكِتٰبٍ
فَصَّلْنٰهُ عَلٰى عِلْمٍ هُدًى وَّرَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿٥٢﴾ هَلْ يَنْظُرُوْنَ اِلَّا تَاْوِيْلَهٗ ؕ يَوْمَ يَاْتِيْ تَاْوِيْلُهٗ
يَقُوْلُ الَّذِيْنَ نَسُوْهُ مِنْ قَبْلُ قَدْ جَآءَتْ رُسُلُ رَبِّنَا بِالْحَقِّ ۚ فَهَلْ لَّنَا مِنْ شُفَعَآءَ فَيَشْفَعُوْا لَنَآ
اَوْ نُرَدُّ فَنَعْمَلَ غَيْرَ الَّذِيْ كُنَّا نَعْمَلُ ؕ قَدْ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ وَضَلَّ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴿٥٣﴾ ع ٦ ج ٣

پس نن به پریږدو دوی په عذاب کښ ځکه چه دوی هیره کړیده پیشی دَ دے ورځے او(ځکه) چه وو دوی چه زمونږ دَآیاتونونه ئے انکار کوو (۵۱) او یقیناً راوړے دے مونږ دوی ته کتاب په تفصیل بیان کړیدے مونږ هغے لره په علم سره هدایت دے اورحمت دے دپاره دَهغه قوم چه ایمان لری (۵۲) انتظار نه کوی دوی مګر دَ عاقبت دَ انکار دَ دے کتاب په کومه ورځ چه راځی به عاقبت دَانکار دَ دے اوبه وائی هغه کسان چه هیر کړیدے داکتاب مخکے دَ دے نه یقیناً راغلی ژو رسولان دَ رب زمونږ په حق سره (لیکن مونږ اونه منل) پس ایاشته مونږ لره څه سفارشیان پس چه سفارش اوکړی مونږ لره یاواپس کړیشو(دُنیاته) پس عمل به اوکړوغیر دَهغه عمل نه چه مونږ کوؤ یقیناً تاوان کښ واچول دوی ځانونه خپل او ورك به شی دَ دوی نه هغه چه دوی دروغ جوړول (۵۳)

[۵۱] دَ دے تفسیرسورة انعام (۷۰) کښ ذکرشوے دے او اسباب دَ عذاب دوه دی یوانکارد قیامت دویم دَ ایتونونه انکارکول ﴿لَهْوًا وَّلَعِبًا﴾ شربینی فرق ذکرکړیدے چه هغه کار چه مناسب نه دے هغے ته همت صرف کول او همت ورته صرف کړی نودا لهو ده۔ اوخوشحالی طلب کول په هغه څیز چه په هغے خوشحالی نه حاصلیږی دا لعب دے اوالوسی وئیلی دی چه دواړه لفظونه شریك دی په اشتغال کښ په بے مقصد څیز باندے اوفرق ئے دا دے چه لعب هغه دے چه مقصد په هغے کښ زرمسرت حاصلول وی او لهو هغه څیزدے چه مشغولتیا پیداکوی اګرچه خوشحالی پکښ نه وی﴿غَرَّتْهُمُ﴾ غرة غفلت دے په حال دَ بیدارئے کښ اوطمع کول دَ انسان دی دَ اوګد عمراوخائسته ژوند اوډیرمال اوحصول دَ جاه او دَشهواتو دپاره اوهغه سبب اوګرځی دَغفلت دَ دین نه۔

[۵۲] ترغیب دے قرآن ته اوعلت دَ هغه زجردے چه مخکښ ایت کښ ذکرشوے دے۔ یعنی مونږدوی لره تفصیل دَ احکامو دپاره هدایت او رحمت داکتاب راوړے دے نودوی ولے انکارکوی۔

[۵۳] دا هم یره اُخروی ده ﴿تَاْوِيْلَهٗ﴾ ضمیرکتاب ته راجع دے اومراد دَ تاویل نه عاقبت دَ انکاردَکتاب دے اوهغه عاقبت (چه عذاب ابدی دے) بنکاره کیږی به په ورځ دَ قیامت او﴿قَدْ جَآءَتْ رُسُلُ﴾ په دے کښ اشاره ده چه دَ قرآن منکرین دَ ټولو رسولانو منکران دی اودا منکرین دَ مخکنو رسولانودَ حال نه خبرشوی وؤپه قرآن کښ یا ضمیردَ نَسُوهُ راجع دے یَومَ ته نوپدیکښ حال دَ مخکنو روستنو ټولو منکرینو دے﴿فَهَلْ لَّنَا مِنْ شُفَعَآءَ﴾ یعنی دوی ته معلومه شوه چه دَ بچ کیدلوسبب خویا شفاعت دے یا دَ نیك عمل دپاره دُنیا ته واپس کیدل اودا دواړه نشی کیدلے ﴿شُفَعَآءَ﴾ دَ دے نه سفارشیان قهری (یعنی بے اذنه) مراد دی ځکه دا عقیده دَ مشرکانو وه په باره دَ معبودانوخپلوکښ لکه چه په سورة یونس(۱۸) کښ دی او﴿نُرَدُّ فَنَعْمَلَ﴾ دَ دے جواب په سورة انعام (۲۸) اوسورة مومنون(۱۰۰) کښ شته دے۔

اِنَّ رَبَّكُمُ اللّٰهُ الَّذِیْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ فِیْ سِتَّةِ اَیَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰی عَلَی الْعَرْشِ ۫ یُغْشِی الَّیْلَ النَّهَارَ یَطْلُبُهٗ حَثِیْثًا ۙ وَّالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ وَالنُّجُوْمَ مُسَخَّرٰتٍ بِاَمْرِهٖ ؕ اَلَا لَهُ الْخَلْقُ وَالْاَمْرُ ؕ تَبٰرَكَ اللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِیْنَ ﴿۵۴﴾ اُدْعُوْا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَّخُفْیَةً ؕ اِنَّهٗ لَا یُحِبُّ الْمُعْتَدِیْنَ ﴿۵۵﴾

یقیناً رب ستاسو اللّٰه تعالیٰ دے هغه ذات دے چه پیدا کړی دی اسمانونه اوزمکه په (اندازه) دَ شپږ ورځو کښ بیا برابر شو (دَخپل شان مناسب) په عرش باندے اغوندوی شپه روځ ته چه طلب کوی یوبل لره په تیزئ سره اوپیدا کړے دے نمر او سپوږمئ اوستوری تابع کړے شوی دی دَحکم دَهغه خبر دار اللّٰه تعالیٰ لره پیداکول دی اواختیار دے برکات ورکړونکے دے اللّٰه تعالیٰ چه پالونکے دَ عالمو دے (٥٤) دُعاغواړئ دَرب خپل نه په عاجزئ اوپه پټه (اوحد نه مه تیریږئ) یقیناً اللّٰه تعالیٰ مینه نه کوی دَحدنه تیروتونکوسره(٥٥)

[٥٤] دَ دے ځائے نه دویمه حصه دَ سورت ده په دے کښ درے بابونه دی اول باب تر(١٠٣) پورے دے په دے کښ اول درے ایاتونوکښ مسئله دَ توحید ده په لس جملوسره اوپه هغے کښ تعریف دَ اللّٰه تعالیٰ دے په رد دَ شرك فی الربوبیت والخلق والبرکات اوپه دُعا سره ـ بیا یومثال دے بیا دَپنځه انبیاؤ واقعات اول درے اوپنځمه واقعه کښ ذکردی چه دے انبیاؤمسئله دَ توحیدپه بهادرئے سره بیان کړے وه اوځلورمه واقعه کښ ذکردے چه لوط علیه السلام دَ اللّٰه تعالیٰ نازل کړے شوی حکم ته خپل قوم را اوبللواودَ شیطان دَتابعدارئے نه ئے خلق منع کړل او اخرکښ ایاتونه دَ دے قصوسره تعلق لری اوابتلاء بالنعم والنقم ذکرکوی۔ ربط دَماقبل سره دا دے چه محکښ اُوئیلے شوچه دَ دوی شفعاء فائده نشی ورکولے ځکه چه معبودان نشی کیدلے معبود خوصرف اللّٰه تعالیٰ دے چه مو صوف دے په دے صفتونوسره دَ دے ایت حاصل دا دے چه اللّٰه تعالیٰ ستاسو (١) رب دے(٢) خالق دے(٣) عرش والا دے (٤) نظام چلوونکے دے (٥) هر څه دَ هغه دَ حکم دَ لاندے دی۔ (٦) اختیارمند دے برکات ورکوونکے اوفائدے رسؤنکے اومصیبتونه دفع کوونکے دے ﴿فِیْ سِتَّةِ اَیَّامٍ﴾ مراد دَ دے نه ورځے دَ اخرت دی چه هره ورځ زرکاله ده ابن کثیر وئیلی دی چه دا قول دَ مجاهد اودَ ضحاك دے دَ ابن عباس نه ئے روایت کوی یا مراد دَ دے نه ورځے دَ دُنیا دی۔ سوال: ورځے دَ دُنیا دَنمردَ ختلواو پریوتلونه معلومیږی اوهغه خوپه دغه وخت نه وؤپیدا شوے؟ جواب: مراد دَ دے نه مقدارد شپږو ورځودے لکه په دے قول دَ اللّٰه تعالیٰ کښ لَهُمْ فِیْهَا رِزْقُهُمْ بُكْرَةً وَّعَشِیًّا۔ اودا شپږ ورځے سورة حم سجده (٩) کښ ذکردی اوله ورځ دَا تواردہ اوپه جمعه باندے ختم شویدے اودَخالی ورځ خالی ده یعنی پیدائش دَ زمکے اسمانونو وغیره ئے په شپږو ورځوکښ کړے وؤاودَ خالی (شنبے) ورځ هم دغسے پاتے وه۔ اوکوم حدیث چه مسلم په باب دَ خلق آدم کښ راوړے دے چه په هغے کښ ابتدا دَ خلق دَ خالی ورځ ده اوټولے ورځے دَپیدا ئش اووه(٧) دی نوهغے باندے ابن کثیر رد کړے دے ﴿ثُمَّ اسْتَوٰی عَلَی الْعَرْشِ﴾ دا دَ هغه صفاتونه دے چه په معنیٰ سره محکمات دی ځکه چه معنیٰ ظاهری ئے معلومه ده اوپه اعتباردَکیفیت سره متشابهات دی یعنی کیفیت ئے مجهول دے لکه چه دَعرش معنیٰ معلوم ده اوحقیقت ئے معلومه نه دے دارنګ استواء اوعلودَ اللّٰه تعالیٰ معناً معلوم ده لیکن کیفیت ئے معلومه نه دے نوعرش اواستواء اواوچت والے معنیٰ ظاهری مراد ده بغیر دَتشبیه اوتمثیل

وَلَا تُفْسِدُوْا فِي الْاَرْضِ بَعْدَ اِصْلَاحِهَا وَادْعُوْهُ خَوْفًا وَّطَمَعًا ۭ اِنَّ رَحْمَتَ اللّٰهِ قَرِيْبٌ مِّنَ الْمُحْسِنِيْنَ ۝٥٦

اوروانے مه کوئ (په شرك سره) په زمکه کښ پس دَ اصلاح دَهغے نه (په توحید سره) او دُعاغواړئ دَ اللّٰه تعالیٰ نه په ویره اوطمعے سره یقیناً رحمت دَ اللّٰه تعالیٰ نیزدے دے خائسته عمل کؤونکو ته(٥٦)

اوتاویل اوتکییف اوتجسیم نه اودا مذهب دَ سلف صالحینودے په ټولو متشابهاتوکښ، دَ امام مالك، اوزاعی، ثوری، لیث، شافعی، احمد اواسحاق بن راهویه امام ابوحنیفه وغیرهم دَامام مالك مشهورقول دا دے چه :(**الاستواء غیرمجهول والکیف غیرمعلوم والایمان به واجب والسوال عنه بدعة**) دَ نعیم بن حماد (دَ بخاری دَ استاد) نه روایت دے چه چا اللّٰه تعالیٰ مشابه کړودَ مخلوق سره نوکفرئیے اوکړو اوچاچه دَ اللّٰه تعالیٰ دَ یوصفت نه انکار اوکړو نوکفر ئیے اوکړو۔ او دَ دے مسئلے زیات تفصیل اوسوال وجواب دَ شیخ الاسلام په فتاویٰ جلد (٥) اوجلد (٣) اودَ ابن قیم کتاب الصواعق المرسله کښ اوګورئے ﴿يُغْشِي الَّيْلَ النَّهَارَ﴾ داجمله دواړو طرفونوته شامل ده مراد دَ دے نه تصرف انقلابی زمانی دے چه دا دَ اللّٰه تعالیٰ په اختیارکښ دے﴿يَطْلُبُهٗ حَثِيْثًا﴾ یعنی په مینځ کښ داسے وخت نه راځی چه نه شپه وی اونه ورځ وی ﴿مُسَخَّرَاتٍ﴾ یعنی تابع کړے شوی دی دَ هغه حالاتوچه اللّٰه تعالیٰ ترینه اراده لری ښکاره کیدل، پټیدل، کسوف او خسوف راتلل اولرے کیدل اونزدے کیدل وغیره ﴿تَبٰرَكَ﴾ دا صفت خاص دے په اللّٰه تعالیٰ پورے دارنګ مبارك لفظ په زیر دَ(ر) سره اللّٰه تعالیٰ پورے خاص دے اومبارك په زَوَرَدَ (ر) سره اللّٰه تعالیٰ ته نشی وئیلے کیدے۔ برکت وئیلے کیدے شی فائدے پیداکول دَ اسمان اودَ زمکے اونمرسپورمئی وغیره فائدے اودارنګ فائدے زیاتول اوپیداکوونکے صرف اللّٰه تعالیٰ دے نودَ فائدوپیدا کوونکے هم اللّٰه تعالیٰ دے نوبرکت ورکوونکے صرف اللّٰه تعالیٰ دے۔

[٥٥] دا رد دے په شرك دَ دُعا باندے تفریع ده په ما قبل باندے چه مالك او اختیارمند او برکت ورکوونکے صرف اللّٰه تعالیٰ دے نو رامدد شه وئیل اوحاجت غوښتل هم په هغه پورے خاص دی اودے ایت کښ دَ دعارکن اوشرطونه ذکر دی رکن دادے چه خاص دَ رب نه غواړئے اوشرطونه ظاهری تضرع اوپه پټه سره غوښتل او اعتداء نه کول ﴿اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِيْنَ﴾ په دے کښ دریم شرط دَ دُعا دے په پټ عبارت سره یعنی۔ وَلَاتَعْتَدُوا اوانَّهٗ لَايُحِبُّ دَ دے علت دے او اعتداء دَ حدودو شرعیه نه تجاوزکولوته وئیلے شی۔

[٥٦] دے ایت کښ رد دے په شرك باندے ځکه فساد په معنیٰ دَ شرك دے اواصلاح په معنیٰ دَ توحید ده او دا دوه شرطونه ئیے ذکرکړه خوف اوطمع چه دَ باطن سره تعلق لری ﴿رَحْمَتَ﴾ نه مراد دلته قبلول دَ دُعا اوثواب دے ﴿الْمُحْسِنِيْنَ﴾ هغه څوك دی چه عمل په عقیده دَتوحید اوپه طریقه دَسنت سره کوی اودارنګ ﴿لَاتُفْسِدُوْا﴾ دا لفظ عام دے افساد دَ نفوسوپه قتل سره اوافساد دَ مالونوپه غصب او غلاکولو سره اوافساد دَ دین په کفراوشرك اوبدعت سره اوافساد دَ نسبونوپه زنا اوعمل دَقوم لوط سره اواصلاح نه مراد په رالیګلودَ انبیاؤ اودَکتابونواالهیوسره ده ﴿خَوْفًا وَّطَمَعًا﴾ دا دواړه په دُعا دَ صالحینوکښ په سورة السجدة (١٦) کښ ذکردی اودَ باران په وخت کښ په سورة رعد (١٢) اودَ برق په وخت په سورة روم(٢٤) کښ ذکردی ﴿رَحْمَتَ اللّٰهِ﴾ رحمت په ډیرومعانوسره دے دلته معنیٰ دَ دعا قبلول دی﴿قَرِيْبٌ﴾

وَهُوَ الَّذِیْ یُرْسِلُ الرِّیٰحَ بُشْرًۢا بَیْنَ یَدَیْ رَحْمَتِهٖ ؕ حَتّٰۤی اِذَاۤ اَقَلَّتْ سَحَابًا ثِقَالًا سُقْنٰهُ
لِبَلَدٍ مَّیِّتٍ فَاَنْزَلْنَا بِهِ الْمَآءَ فَاَخْرَجْنَا بِهٖ مِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ ؕ كَذٰلِكَ نُخْرِجُ الْمَوْتٰی لَعَلَّكُمْ
تَذَكَّرُوْنَ ۝۵۷ وَالْبَلَدُ الطَّیِّبُ یَخْرُجُ نَبَاتُهٗ بِاِذْنِ رَبِّهٖ ۚ وَالَّذِیْ خَبُثَ لَا یَخْرُجُ اِلَّا نَكِدًا ؕ
كَذٰلِكَ نُصَرِّفُ الْاٰیٰتِ لِقَوْمٍ یَّشْكُرُوْنَ ۝۵۸ ع لَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا اِلٰی قَوْمِهٖ فَقَالَ یٰقَوْمِ اعْبُدُوا
اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَیْرُهٗ ؕ اِنِّیْۤ اَخَافُ عَلَیْكُمْ عَذَابَ یَوْمٍ عَظِیْمٍ ۝۵۹ قَالَ الْمَلَاُ

او خاص اللّٰه تعالیٰ هغه ذات دے چه رالیږی هوا ګانی زیږے ورکړونکی مخکے دَ رحمت دَ هغه نه ترهغے چه کله راپورته کړی وریځے درنے (په اوبو) بوځو مونږ هغه زمکے اوچے ته پس را اورړو مونږ په هغے باندے اوبه پس رااوباسو په هغے سره هر قسم میوے دغسے رااوباسو به مړی(دَقبرونونه) دے دپاره چه نصیحت واخلئے (۵۷) او زمکه ښه رااوځی بوټی دَهغے نه په حکم دَ رب دهغے اوهغه زمکه چه خوره وی نه رااوباسی مګر بے کاره بوټی دغسے قسم قسم بیا نړو مونږ آیتونه هغه قوم لره چه شکر کوی (۵۸) یقیناً لیګلے دے مونږ نوح(علیه السلام) قوم دَهغه ته پس وے وئیل اے قومه ځما بندګی خاص کړئ اللّٰه تعالیٰ لره نیشته تاسو لره څوك مددګار سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه یقیناً ویریږم ځه په تاسو باندے دَ عذاب دَ روځے لوئے نه(۵۹) اُوئیل غټانو

مذکر راوړے دے ځکه چه رحمت اللّٰه تعالیٰ ته مضاف دے نوپه دے کښ ادب دے۔

[۵۸،۵۷] دا یودلیل دے دَ توحید عطف دے په دے قول باندے یُغشی الیل اومثال هم دے دپاره دَ قرآن اودَ بیان دَ توحید لکه څنګه چه دَ باران نه مخکښ هواوی اودرنے وریځے وی دَ غسے دَ قرآن نه مخکښ کتابونوکښ بشارتونه وودَ قرآن اودَ رسول په باره کښ اوپه ابتداء کښ مشرکینو ډیرے سختے مقابلے اوتیرے جوړے کړے وے اوځنګه چه زمکے دوه قسمه وی دَ یونه په باران سره فائدے والابوټی را اوځی اودَ بل قسم نه بے کاره بوټی را اوځی دغسے دَ قرآن بیان بعض خلقوته فائده ورکوی اوبعضوته نقصان۔ ﴿كَذٰلِكَ نُخْرِجُ الْمَوْتٰی﴾ په دے سره اثبات دَ قیامت دے په طریقه دَ قیاس کولو۔ بل دا چه هر کله چه انسان دَ زمکے فصل ته اوګوری نوهسے نه چه دَ خوشحالئی دَ وجے نه دوباره ژوند هیرکړی نو ورسره ئے دا ذکر کړو دپاره دَ ذکردَ اخرت ﴿الرِّیَاحَ﴾ دَ ریاح څلور قسمونه دی (۱) صبا: وریځے رااوچتوی۔ (۲)شمال: وریځے جمع کوی (۳) جنوب: وریځے ګرځوی (٤) دَ بور: وریځے جداجدا کوی۔

[۵۹] دَ دے ایت نه واقعات دَ شپږوانبیاء علیهم السلام ذکر کوی چه تعلق لری دَ درے واړو دَ عوډ دَ سورة سره لیکن اول درے ښکاره تعلق لری د دریمے دعوے سره چه اثبات دَ توحید دے۔ او دَ هرے قصے خلاصه درے اموردی اول دعوت دَ نبی دویم تکذیب دَ قوم دریم نزول دَ عذاب په هغوی باندے ﴿اِلٰی قَوْمِهٖ﴾ دا دلیل دے چه نوح علیه السلام دَ ټولوانسانانودپاره رسول نه وو صرف دَ خپل قوم وؤ لیکن هغه وخت په ټوله زمکه صرف دغه خلق وؤنورځوك نه وؤ دے وجے نه مشهوره ده چه هغه هم ټولوخلقوته مبعوث وؤپه حقیقت کښ دا خصوصیت زمونږدَ نبی اخرالزمان ﷺ دے۔

مِنْ قَوْمِهٖٓ اِنَّا لَنَرٰىكَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿٦٠﴾ قَالَ يٰقَوْمِ لَيْسَ بِيْ ضَلٰلَةٌ وَّلٰكِنِّيْ رَسُوْلٌ مِّنْ
رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٦١﴾ اُبَلِّغُكُمْ رِسٰلٰتِ رَبِّيْ وَاَنْصَحُ لَكُمْ وَاَعْلَمُ مِنَ اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿٦٢﴾
اَوَعَجِبْتُمْ اَنْ جَآءَكُمْ ذِكْرٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ عَلٰى رَجُلٍ مِّنْكُمْ لِيُنْذِرَكُمْ وَلِتَتَّقُوْا وَلَعَلَّكُمْ
تُرْحَمُوْنَ ﴿٦٣﴾ فَكَذَّبُوْهُ فَاَنْجَيْنٰهُ وَالَّذِيْنَ مَعَهٗ فِي الْفُلْكِ وَاَغْرَقْنَا الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا ۭ

دَ قوم دَ هغه نه یقیناً مونږ وینو تالره په ګمراهئ ښکاره کښ (٦٠) اُوئیل هغه اے قومه ځما نیشته په ماباندے ګمراهی لیکن ځه رسول یم دَ طرف دَ رب العٰلمین نه (٦١) رسوم تاسو ته پیغامونه دَ رب خپل اوخیرلټوم ستاسو اوپوهیږم دَ طرف دَ اللّٰه تعالیٰ نه په هغه څه چه تاسو پرے نه پوهیږئ (٦٢) آیا تعجب کوئ تاسو چه راغلے ده تاسو ته وحی دَ طرف دَ رب ستاسونه په یوسړی باندے ستاسو نه دے دپاره چه اویروی تاسو اوچه بچ شئ دَشرك نه او دپاره دَ دے چه رحم اوکړیشی په تاسو باندے (٦٣) پس دوی دروغژن اُوئیل هغه ته پس بچ کړو مونږ دهٔ لره اوهغه څوك چه دَهغه سره وؤ په کشتئ کښ اوغرق کړل مونږه هغه کسان چه دروغژن کړې وؤ اٰیاتونه زمونږ

[٦٠] په دے اٰیت کښ تکذیب دَ قوم ئیے ذکر کړو ﴿اِنَّا لَنَرٰىكَ﴾ یعنی توحید ته دعوت کول اودَ پنځو (ود، سواع، یغوث، یعوق، اونسر) دَ بندګئ نه منع کول داګمراهی ده نواهلَ حق ته دَګمراهئ اودَکم عقل والی وغیره بدنسبتونه دَ زړو کافرانو عادت دے ﴿الْمَلَاُ﴾ دَ قوم غټان اومالدارنسب دارخلق چه په هغوی سره مجلسونه ډك ښکاری یا هغوی ډك وی دَ دُنیاپه مالونواواقتدارسره۔

[٦١] دا جواب دے دَ نوح علیه السلام دَ طرف نه قوم ته لیکن ډیرپه نرمه طریقے سره ﴿ضَلٰلَةٌ﴾ په جنس باندے دلالت کوی په خلاف دَ لفظ دَ ضلال۔ نونفی دَ جنس سره نفی کامله راځی ﴿وَلٰكِنِّيْ رَسُوْلٌ﴾ دَ توحید دَ بیان سره دا دعویٰ دَ رسالت ده۔

[٦٢] داهم په جواب کښ داخل دے په ذکردَ درے احوالودَ رسول سره اول ابلاغ دویم نصیحت (خیر خواهی او اخلاص) دریم علم دَ وحی ﴿مِنَ اللّٰهِ﴾ دلیل دے چه علم دَ نبی صرف دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه وی ﴿مَالَاتَعْلَمُوْنَ﴾ اوعلم دَ نبی دَ اُمت نه زیات وی ځکه چه په وحی سره وی۔

[٦٣] دَ مخکښ نه دَ منکرینو په ذهن کښ داوه چه دَ رسالت اوبشریت په مینځ کښ منافات دے نودا وهم دَ دے قوم هم ووبلکه دَ دوی دا قول په سورة مؤمنون (٢٤) کښ هم ذکر دے اودا عقیده اوس هم په باطل پرستو کښ شته دے چه دَ نبی دَ بشریت نه انکارکوی لیکن موجوده منکرینو نبی نه دے لیدلے نو وائي نبی وؤخوبشر نه وؤ اومخکنوخلقوخوانبیاء لیدلی وؤ او ورته معلومه وه چه دا بشر دی نودَ هغوی دَ نبوت نه ئیے انکارکوؤ نوسبب دَ انکاردَ ټولویو دے چه هغه منافات دے په مینځ دَ بشریت اونبوت کښ اوداکفردے۔

ع ٦ ١٥ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمًا عَمِيْنَ ﴿٦٤﴾ وَ اِلٰى عَادٍ اَخَاهُمْ هُوْدًا ؕ قَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ
مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ؕ اَفَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿٦٥﴾ قَالَ الْمَلَاُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖۤ اِنَّا لَنَرٰىكَ فِيْ
سَفَاهَةٍ وَّ اِنَّا لَنَظُنُّكَ مِنَ الْكٰذِبِيْنَ ﴿٦٦﴾ قَالَ يٰقَوْمِ لَيْسَ بِيْ سَفَاهَةٌ وَّ لٰكِنِّيْ رَسُوْلٌ مِّنْ
رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٦٧﴾ اُبَلِّغُكُمْ رِسٰلٰتِ رَبِّيْ وَ اَنَا لَكُمْ نَاصِحٌ اَمِيْنٌ ﴿٦٨﴾ اَوَ عَجِبْتُمْ اَنْ جَآءَكُمْ

یقیناً دوی وو قوم ړاندهٔ (٦٤) او اولیږلو مونږ عادیانوته رور دَهغوی هود(علیه السلام) اُوئیل دهٔ اے قومه ځما بندګی خاص کړئے اللّٰه تعالیٰ لره نیشته تاسوله مددګار سیوا دَهغه نه آیاپس نه بچ کیږئ دَشرک نه(٦٥) اُوئیل غټانو چه کفرئے کړے ؤو دَ قوم دَهغه نه یقیناً مونږ خامخا وینو تاله په کم عقلتیا کښ او یقیناً ګمان کؤو مونږ په تاباندے دَ دروغژنونه (٦٦) اُوئیل دهٔ اے قومه ځما نیشته په ماباندے هیڅ کم عقل تیا لیکن ځه رسول یم دَ طرف دَ رب العٰلمین نه (٦٧) رسؤم تاسوته پیغامونه دَرب خپل اوځه تاسولره خیر خواه امانت داریم (٦٨) آیا اوتعجب کوئ تاسو چه راغلے ده تاسوته

[٦٤] په دے ایت کښ دوام دَ تکذیب ذکرشویعنی تَمَادَوْا (همیش والے اوکړو دوی په تکذیب باندے)۔ ﴿وَالَّذِيْنَ مَعَهٗ﴾ دَ دوی تعداد کښ ډیراقوال دی راجح داده چه شپږکسان وؤدرے ځامن دَهغه سام، حام یافث اودرے دَ هغوی بیبیانے وے﴿الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا﴾ دا لفظ دلیل دے چه طوفان دَ وخت دَ نوح(علیه السلام) په ټوله زمکه باندے نه وؤصرف دَ هغه دَ قوم په علاقه باندے وؤاو هغه علاقه دَعراق وه ځکه چه په هغه وخت کښ په زمکه باندے نورخلق اباد نه وؤماسیوا دَ دغه قوم نه نودا خبره چه مشهوره ده چه طوفان په ټوله زمکه باندے راغلے وؤ مراد دا دے چه هغه ټوله زمکه (چه انسان پرے اباد وؤ) او دارنګ چاچه اثاردَ دے طوفان موندلی دی نوصرف په زمکه دَ عراق کوه ارارات دَ موصل سره نزدے ئے موندلی دی۔

[٦٥] دا دویم دلیل نقلی دَ توحید دے۔ عاد دَ اولاد دَ سام بن نوح نه ووپه پنځمه پُشته کښ اوهود دَ عاد په اولادکښ ووپه درے پُشته کښ بیا عاد دَ ټولے قبیلے نوم شو﴿اَخَاهُمْ﴾ مراد دَ اخوت نه نسبی وؤیعنی په قومیت کښ ور سره شریك وؤ اوکله اخوت په معنیٰ دَ خیرخوایئی سره وی﴿اَفَلَا تَتَّقُوْنَ﴾ سره تخویف ذکردے۔

[٦٦] دا تکذیب دے دَ طرف دَ قوم نه اواشاره ده چه چا توحید بیان کړے دے نو هغه ته کم عقل اودروغژن وئیلے شویدی﴿الَّذِيْنَ كَفَرُوْا﴾ په دے کښ اشاره ده چه دَ هغه دَ قوم نه بعض غټانو ایمان راوړے وؤ﴿فِيْ سَفَاهَةٍ﴾ دَعقل اوپوهے اودَ رائ کمزور والی ته وئیلے شی دا لفظ متعلق دے دَ مسئلے دَ اعبدوا سره او﴿مِنَ الْكٰذِبِيْنَ﴾ متعلق دے دَ تتقون سره چه په هغے کښ عذاب راتللوته اشاره ده۔

[٦٧] اشاره ده چه رسول کم عقل نه وی بلکه دَ هغه عقل اوعلم دواړه کامل وی اوپه دے کښ دعویٰ دَ رسالت دَ هغه ذکرده۔

[٦٨] په دے کښ درے اوصاف دَ رسول ذکردی ﴿نَاصِحٌ اَمِيْنٌ﴾ په صیغه دَ اسم فاعل سره اشاره ده شهرت دَ دے صفاتوته عموماً یا ناصح په دعوت دَ توحید کښ اوامین په دعویٰ دَ رسالت کښ۔

ذِكْرٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ عَلٰى رَجُلٍ مِّنْكُمْ لِيُنْذِرَكُمْ ؕ وَاذْكُرُوْٓا اِذْ جَعَلَكُمْ خُلَفَآءَ مِنْۢ بَعْدِ قَوْمِ
نُوْحٍ وَّزَادَكُمْ فِى الْخَلْقِ بَصْۜطَةً ۚ فَاذْكُرُوْٓا اٰلَآءَ اللّٰهِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿٦٩﴾ قَالُوْٓا اَجِئْتَنَا
لِنَعْبُدَ اللّٰهَ وَحْدَهٗ وَنَذَرَ مَا كَانَ يَعْبُدُ اٰبَآؤُنَا ۚ فَاْتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ اِنْ كُنْتَ مِنَ
الصّٰدِقِيْنَ ﴿٧٠﴾ قَالَ قَدْ وَقَعَ عَلَيْكُمْ مِّنْ رَّبِّكُمْ رِجْسٌ وَّغَضَبٌ ؕ اَتُجَادِلُوْنَنِىْ فِىْٓ اَسْمَآءٍ
سَمَّيْتُمُوْهَآ اَنْتُمْ وَاٰبَآؤُكُمْ مَّا نَزَّلَ اللّٰهُ بِهَا مِنْ سُلْطٰنٍ ؕ فَانْتَظِرُوْٓا اِنِّىْ مَعَكُمْ مِّنَ

وحی دَطرف دَرب ستاسو نه په یوسړی باندے ستاسو نه دپاره دَ دے چه اویروی تاسو لره اویادکړئ کوم وخت چه جوړ کړئ الله تعالیٰ تاسو آبادؤنکی دَزمکے پس دَ قوم دَنوح نه او زیات ئے کړه تاسو لره په پید ائش کښ فراخی پس یاد کړئے نعمتونه دَ الله تعالیٰ دے دپاره چه کامیاب شئ تاسو (٦٩) اُوئیل دوی اٰیاتهٔ راغلے ئے مونږ ته دے دپاره چه مونږ بندگی اوکړو دَیو الله تعالیٰ اوپریږدو هغه کسان چه بندگی کوله مشرانو زمونږ پس راوړه مونږ ته هغه (عذاب) چه ته یروے مونږ که ته ئے دَ رشتینونه (٧٠) اُوئیل دهٔ یقیناً راغلے دے په تاسو باندے دَ رب دَ طرف نه زنگ اوغضب آیا جگړه کوئ تاسو سره په باره دَ هغه نومونو کښ چه کیخودلی دی هغه تاسو اومشرانو ستاسو نه دے نازل کړے الله تعالیٰ په دے باندے هیڅ دلیل پس انتظار کوئے یقیناً سه سره ستاسو نه دَ

[٦٩] دهٔ باندے دا اعتراض وؤچه ته بشرئیے او سړے ئیے نوځنګه رسول شوے لکه چه په سورة ابراهیم (١٠) اوسورة مؤمنون (٣٣) کښ ذکردے نوهغه ورته جواب ورکړو ﴿اَوَعَجِبْتُمْ سره﴾ ډیروالے دَ نسل مراد دے یا غټ والے دَ بدن سره دَ دنګ والی دَ قدنه مراد دے۔ دَ حدیث صحیح نه معلوم ده چه دَ آدم علیه السلام قد شپیته ذراعه وؤ اواولاد به ئیے دَ هغه نه کمیږی نو کوم اسرائیلی روایات چه دَ عادیا نوپه باره کښ راغلی دی چه هغوی سل ذراعه وؤیا په دوی کښ عوج نوم والاسړے اسمان ته رسیدلودا روایا ت بے اعتباره دی ﴿وَاذْكُرُوْٓا﴾ دا تاکید دَ دعوت دے په ذکردَ نعمتونوسره دپاره دَ ترغیب۔

[٧٠] دا طریقه دَ تکذیب دَ هغوی وه یعنی دَ توحید نه تعجب کول الوسی وئیلی دی چه دا ډیرانهماك دَ هغوی وؤپه تقلید دَ اباؤ کښ ﴿اَجِئْتَنَا﴾ ئے دَ دے وجے نه اُوئیل چه دے دَ نعمت نه مخکښ دَ هغوی نه جدا اوسیدلو لکه چه زمونږ نبی ﷺ په حراء کښ اوسیدلو مخکښ دَ نبوت نه یا دا قول په طریقه دَ استهزاء سره دے چه دوی وئیل ایا ته دَ اسمان نه دَ دے خبرے دپاره راغلے ئیے یا دا چه نوے مسئلے راوړلونه دوی کنایه اوکړه په نوے راتللودَهغه سره دا دلیل دے چه دَ هغوی (اودا رنګ دَ ټولومشرکانو) جگړه په نفس عبادت کښ ده صرف په الله تعالیٰ کښ نده بلکه په توحید کښ وه چه هغوی دُعاء، سجدے، نذروغیره الله تعالیٰ لره خاص نه منلوبلکه نور ئیے ورسره په دے کښ حقدارګنړل اوداسے په سورة اسراء (٤٦) اوصافات (٣٥) اوص(٥) کښ هم دی۔

الْمُنْتَظِرِيْنَ ﴿٧١﴾ فَاَنْجَيْنٰهُ وَالَّذِيْنَ مَعَهٗ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا وَقَطَعْنَا دَابِرَ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَمَا
كَانُوْا مُؤْمِنِيْنَ ﴿٧٢﴾ وَاِلٰى ثَمُوْدَ اَخَاهُمْ صٰلِحًا ۘ قَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ؕ
قَدْ جَآءَتْكُمْ بَيِّنَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ ؕ هٰذِهٖ نَاقَةُ اللّٰهِ لَكُمْ اٰيَةً فَذَرُوْهَا تَاْكُلْ فِيْٓ اَرْضِ اللّٰهِ وَلَا
تَمَسُّوْهَا بِسُوْٓءٍ فَيَاْخُذَكُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٧٣﴾ وَاذْكُرُوْٓا اِذْ جَعَلَكُمْ خُلَفَآءَ مِنْۢ بَعْدِ عَادٍ وَّبَوَّاَكُمْ

وقف لازم

انتظار کؤونکونه یم (۷۱) پس بچ کړو مونږ دے اوهغه کسان چه دَ دهٔ ملګری ؤو په سبب دَ رحمت زمونږ او پریکړے مونږ جړے دَهغه کسانوچه دروغژن ئے ګنړل آیاتونه زمونږ اونهٔ ؤو دوی مؤمنان(۷۲) او لیږلے ؤو مونږ ثمودیانوته رور دَهغوی صالح(علیه السلام) اُوئیل هغه اے قومه ځما بندګی خاص کړئ الله تعالیٰ لره نیشته تاسو لره هیڅ څوك مددګار سیوا دَهغه نه یقیناً راغلے ده تاسوته بنکاره معجزه دَ طرف دَ رب ستاسونه داده اوښه دَ الله تعالیٰ تاسولره معجزه پس پریږدئ دا چه خوراك کوی په زمکه دَ الله تعالیٰ کښ اومه رسوئ هغے ته هیڅ تکلیف پس اوبه نیسی تاسولره عذاب دردناك (۷۳) اویادکړئے کوم وخت چه اوګرځولئ الله تعالیٰ تاسو ابادوونکی دَزمکے پس دَعادیانونه او ځائے ئے درکړو تاسوته

[۷۱] ﴿قَدْ وَقَعَ﴾ په معنیٰ دَ وجب دے په سبب دَ دغه وینا سره ﴿رِجْسٌ﴾ عذاب یا دَ زړونوزنګ۔ ﴿اَسْمَآءٍ﴾ دَ دے نه مراد هغه صفات دی چه دوی به خپلو معبودانو لره منل اودَ هغے په باره کښ به ئے دَ رسول سره جګړه کوله۔ لکه دے زمانه کښ وائي دَ بادو بابا، دَګوذن بابا، داتاګنج بخش اوغوث اعظم وغیره دا نومونه دَ هغه بزرګانو روستوخلقوایښی دی قرآن او سنت کښ په هغے څه دلیل نیشته۔ اودا تسمیه دَ مور اوپلار دَ طرف نه نه وی بلکه په شرکی عقیده سره دَ مشرکانومشرانواو کشرانودَ طرف نه وی ﴿اٰبَآؤُكُمْ﴾ رد دے په تقلید دَ آباؤباندے په شرکی نوم ذکرکولو کښ ﴿مَا نَزَّلَ﴾ اشاره ده چه دَ شرك (اودَهرے عقیدے) دَ اثبات دپاره دلیل منزله (ایاتونه اواحادیث) پکاروی په غیرمنزل دلیلونوسره عقیده نه ثابتیږی۔

[۷۲] په دے کښ دَ نجات سبب ئے صرف رحمت وئیلے دے او رحمت په اصل کښ توفیق دَ ایمان اودَ توحید دے اودا رحمت خاصه دے اواشاره ده چه دَ انبیاؤاودَهغوی دَ ملګرو نجات دَ هغوی دَ عمل په وجه (وجوبی) سره نه دے ﴿دَابِرَ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا﴾ په دے کښ استیصالی عذاب مراد دے چه ټول نسل ئے ورله تباه کړو ﴿وَمَا كَانُوْا مُؤْمِنِيْنَ﴾ دا عطف دے په كَذَّبُوا باندے یعنی تکذیب اوعدم ایمان سبب دے دپاره دَعذاب دَ دوی عذاب ئے په سورهٔ حٰمٓ سجده (۱۶) احقاف (۲۴) اوالحاقه (۶) کښ ذکرکړے دے۔

[۷۳] دا دریم دلیل نقلی دے په مسئله دَ توحید باندے۔ ثمود ځوئے دَ عاد وؤ بیا دَ هغه نسل ته قبیله دَ ثمود وئیلے کیږی۔ او صالح په پنځه پُشته کښ دَ ثمود په اولاد کښ وؤ اودوی دَ حجازاودَ شام په مینځ کښ په لاردَ تبوك باندے اباد وؤاوس هغه ځائے ته مدائن صالح وائي اوهغه کنډرات دی په دے ایت کښ دَ هود علیه السلام دعوت دَ توحید ذکردے بیا دَ هغه قوم دَ طلب دَ معجزے دَ وجے نه دوی ته ئے اظهاردَ معجزے اوکړو ﴿بَيِّنَةٌ﴾ معجزے سره اظهار دَ رسالت اواثبات دَ توحید کیږی دَ دے وجے نه هغے ته بینه وئیلے شی۔ ﴿مِّنْ رَّبِّكُمْ﴾ کښ اشاره ده چه معجزه دَ نبی اختیار کښ نه وی ﴿هٰذِهٖ نَاقَةُ اللّٰهِ﴾ دا بیان دَ معجزے دے۔ نَاقَةُ اللّٰهِ اضافت الله تعالیٰ ته دَ مخلوق دے خالق ته اوتخصیص ئے دَ وجے دَ شرافت نه دے اوبله وجه دا ده چه بغیرد اسبابو

فِي الْاَرْضِ تَتَّخِذُوْنَ مِنْ سُهُوْلِهَا قُصُوْرًا وَّتَنْحِتُوْنَ الْجِبَالَ بُيُوْتًا ۚ فَاذْكُرُوْٓا اٰلَآءَ
اللّٰهِ وَلَا تَعْثَوْا فِي الْاَرْضِ مُفْسِدِيْنَ ﴿٧٤﴾ قَالَ الْمَلَاُ الَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖ لِلَّذِيْنَ
اسْتُضْعِفُوْا لِمَنْ اٰمَنَ مِنْهُمْ اَتَعْلَمُوْنَ اَنَّ صٰلِحًا مُّرْسَلٌ مِّنْ رَّبِّهٖ ؕ قَالُوْٓا اِنَّا بِمَآ اُرْسِلَ
بِهٖ مُؤْمِنُوْنَ ﴿٧٥﴾ قَالَ الَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْٓا اِنَّا بِالَّذِيْٓ اٰمَنْتُمْ بِهٖ كٰفِرُوْنَ ﴿٧٦﴾ فَعَقَرُوا النَّاقَةَ وَعَتَوْا عَنْ

په زمکه کښ جوړوئ تاسو دَ میدانونو دَ هغے نه بنګلے اوکنئے دَ غرونونه کوتے پس یادکړئ نعمتونه دَ
اللّٰه تعالیٰ اومه ګرځی په زمکه کښ روانے کۀونکی (٧٤) اُوئیل غټانو هغه چه لوئی ئے کړے وه
(دَمال دَوجے نه) دَ قوم دَهغه نه هغه چاته چه کمزوری ګنړل کیدل (دَوجے دَ غریبئے نه) هغه چاته چه
ایمان ئے راوړے وو دَ دوی نه آیاتاسو یقین کوئ چه صالح(ﷺ) رسول دے دَ طرف دَ رب خپل نه دوی
اُوئیل یقیناً مونږ په هغه (څه) چه دے رالیګلے شویدے په هغے باندے ایمان راوړے دے (٧٥) اُوئیل هغه
چاچه ځان ئے لوئے ګنړلو یقیناً مونږ په هغه څه چه ایمان راوړے تاسو په هغے باندے انکار کۀونکی
یو(٧٦)پس هلاکه کړه دوی اوښه اونافرمانی اوکړه دوی دَ

ظاهریونه پیدا شوه اواضافت په ارضِ اللّٰهِ کښ همدغه مخکښ په شان دے ﴿تَاْكُلُ فِيْٓ اَرْضِ اللّٰهِ﴾ مراد دا دے چه په تاسو باندے دَ دے رزق اومشقت نیشته لیکن دَ دے بے عزتی مه کوئے دا دلیل دے چه دَ معجزے بے عزتی کول سبب دَ عذاب دے۔

[٧٤] په دے ایت کښ تذکیردے په نعمتونوسره دپاره دَ دے چه توحید اومنئے نعمتونه دَ عادیانونفسی اوبدنی وؤ اونعمتونه دَثمودیانودَ ابادواودَ صنعت کارئے وؤ ﴿سُهُوْلِهَا﴾ یعنی په میدانی زمکه کښ ئے دنګے بنګلے بے ضرورته جوړولے اوپه غرونوکښ هم دَګټو ابادئ کولے اوقوم ثمود دَعماراتواوګټو په تراش کولوکښ ډیرهنرمند وؤ اودَ دے وجے نه ډیرسرمایه دارو و ﴿مُفْسِدِيْنَ﴾ فساد عظیم دا وؤچه نهه کسان وؤ اوخلق به ئے دَ ایمان اودَ ملګرتیا دَ صالح ﷺ نه منع کول لکه په سورة نمل (٤٨) کښ دی۔

[٧٥] په دے قوم کښ سرمایه داران ډیروؤنودَ هغوی کفردَ وجے دَ دے نه وؤچه ځان ئے لوئے ګنړلو ځکه ئے دلته ﴿اسْتَكْبَرُوْا﴾ اُوئیل ﴿اسْتُضْعِفُوْا﴾ کمزوری دَ هغوی دَ وجے دَ غریبئ یا دَ نسب دَ وجے نه وه اوحدیث هرقل (چه بخاری ذکرکړے دے) کښ دی چه تابعدارد انبیاؤعلیهم السلام ضعفاء دَ قوم وی لیکن لفظ دَ باب استفعال اوصیغه دَ مجهول دلالت کوی چه هغوی په حقیقت کښ ضعیف نه ووبلکه مخالفینوضعیف ګنړل ﴿لِمَنْ اٰمَنَ﴾ اشاره ده چه ټولوضعفاؤایمان نه وؤراوړے ﴿اَتَعْلَمُوْنَ﴾ دا وینا دَ دوی په طریقه دَ دباؤاچولووه په مؤمنانو باندے لیکن هغوی په ترقئ سره جواب ورکړویعنی صرف صالح باندے ایمان نه دے بلکه په مسئله دَ توحید باندے هم مونږایمان راوړے دے نومخالفت ډیرښکاره شو۔

[٧٦] دا هم بیان دَ استکبار اودَ ضد دَ دوی دے اواشاره ده چه مونږستاسودَ وجے نه ایمان نه راوړوځکه چه زمونږاو ستاسوپه مینځ کښ ډیرفرق دے۔

اَمْرِ رَبِّهِمْ وَقَالُوْا يٰصٰلِحُ ائْتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ اِنْ كُنْتَ مِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿٧٧﴾ فَاَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ فَاَصْبَحُوْا
فِيْ دَارِهِمْ جٰثِمِيْنَ ﴿٧٨﴾ فَتَوَلّٰى عَنْهُمْ وَقَالَ يٰقَوْمِ لَقَدْ اَبْلَغْتُكُمْ رِسَالَةَ رَبِّيْ وَنَصَحْتُ لَكُمْ وَلٰكِنْ
لَّا تُحِبُّوْنَ النّٰصِحِيْنَ ﴿٧٩﴾ وَلُوْطًا اِذْ قَالَ لِقَوْمِهٖٓ اَتَاْتُوْنَ الْفَاحِشَةَ مَا سَبَقَكُمْ بِهَا مِنْ اَحَدٍ
مِّنَ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٨٠﴾ اِنَّكُمْ لَتَاْتُوْنَ الرِّجَالَ شَهْوَةً مِّنْ دُوْنِ النِّسَآءِ ؕ بَلْ اَنْتُمْ قَوْمٌ مُّسْرِفُوْنَ ﴿٨١﴾

حکم دَرب خپل نه او اُوئیل دوی اے صالح(علیہ السلام) راوړه مونږ ته هغه عذاب چه ته پرے مونږ یَروے که ئے ته دَ پیغمبرانونه (۷۷) پس اونیو دوی لره زلزلے پس شول دوی په خپل کلی کښ پرمخے پراته (مړه) (۷۸) پس روان شو(صالح علیہ السلام) دَ دوی نه او اُوئیل ئیے اے قومه یقیناً رسولے دے ماتاسوته پیغام دَ رب خپل اوخیرم لټولے دے تاسو لره اولیکن نه خوخوئے تاسو خیر خواهان خپل (۷۹) (اولیګلے ژوِ مونږ) لوط(علیہ السلام) کوم وخت چه اُوئیل دهٔ قوم خپل ته ایا کوئ تاسو بدکاری چه مخکے ستاسونه نه دے کړے داکار هیڅا دَ خلقونه (۸۰) یقیناً تاسو خامخا راتلل کوئ نارینوته په شهوت سره تیروتونکی ییٔ دَ زنانونه بلکه تاسو قوم مشرکان ییٔ (۸۱)

[۷۷] ﴿فَعَقَرُوْا﴾ عقر په اصل کښ خپوپریکولوته وائي لیکن دلته مراد نحردے نحرَ اوښے یو کس اوکړو لکه په سورة قمر (۲۹) کښ دی دَ هغه نوم قدار بن سالف ذکر شویدے اوحدیث دَ مسلم کښ دی (رَجُلٌ عَزِيزٌ عَارِمٌ خَبِيثٌ مَنِيعٌ فِي رَهْطِهٖ مِثْلَ اَبِي زَمْعَةَ) یامراد دا چه اول ئیے ورله خبے پرے کړے بیائیے مړه کړه۔ اونوراته کسان ورسره ملګری وؤ ﴿عَنْ اَمْرِ رَبِّهِمْ﴾ امریه (۳۷) کښ ذکروؤ ﴿مِنَ الْمُرْسَلِيْنَ﴾ دا دلیل دے چه دوی ډیرمفسدان وؤد رسالت نه منکر وؤ اوقوم عاد رسول ته ﴿الصّٰدِقِيْنَ﴾ وئیلے وؤیعنی صرف تکذیب ئیے کوؤپه اخبارد عذاب کښ۔

[۷۸] ﴿الرَّجْفَةُ﴾ زلزله دَ زمکے ده۔ اوسورة هود کښ (صیحه) ده یعنی دواړه عذابونه په دوی باندے جمع شوی وؤیا دَ رجفه نه مراد تزلزل دَ زړه دے په سبب دَ صیحه سره یا مراد دَ صیحه نه هیبت ناك اوازدے په وخت دَ سخته زلزله کښ اوپه زلزلے سره دَ دوی ټول مکانات اوغور زیدل ﴿فَاَصْبَحُوْا﴾ دلالت کوی چه عذاب دَ شپے راغلے وؤ ﴿دَارِهِمْ﴾ په معنیٰ دَ هغه کلی دے چه مشتمل وی په ډیرو کوټوباندے دَ دے وجے نه مفرد ذکرشو ﴿جٰثِمِيْنَ﴾ دَ جثم نه دے په معنیٰ دَ جوخټیدلوپه زمکه باندے اودارنګ کیناستل په زنګنانوباندے دواړه معنے لسان العرب کښ ذکردی۔

[۷۹] ﴿يٰقَوْمِ﴾ سوال: دا دے چه دا مړوته خطاب دے معلومه شوه مړی اوری؟ جواب(۱): دا خطاب دَعذاب دَ راتلونه مخکښ دے لکه چه دَ سورة هود دَ ترتیب نه معلومیږی۔ جواب(۲): دا خطاب په طریقه دَ معجزے دے لکه واقعه دَ بدرکښ داسے شوی وؤ اومعجزه په نبی پورے خاص وی۔

[۸۰] دا څلورمه واقعه ده دَ دے تعلق دَ سورة دَ دویمے دعوے سره دے چه لوط علیہ السلام قوم لره دَ شیطان دَ تابعدارئے نه منع کړے وؤخوهغوی منع نه شول نوعذاب پرے راغے اودا قوم په شرك کښ هم مبتلاوؤ۔ لوط علیہ السلام دَ دے قوم دَ نسب نه نه وؤبلکه ورارهٔ وؤ دَ ابراهیم علیہ السلام (لوط بن هاران بن تارخ (ازر) دَ دے وجے نه اخوهم ئیے اونه وئیل بیا دَ مَاسَبَقَكُم لفظ نه معلومه شوه چه دَ دے قبیح ګناه ایجاد دے قوم کړے وؤنودا

وَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهٖٓ اِلَّآ اَنْ قَالُوْٓا اَخْرِجُوْهُمْ مِّنْ قَرْيَتِكُمْ ۚ اِنَّهُمْ اُنَاسٌ يَّتَطَهَّرُوْنَ ﴿٨٢﴾ فَاَنْجَيْنٰهُ وَاَهْلَهٗٓ اِلَّا امْرَاَتَهٗ ۖ كَانَتْ مِنَ الْغٰبِرِيْنَ ﴿٨٣﴾ وَاَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ مَّطَرًا ۭ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُجْرِمِيْنَ ﴿٨٤﴾ وَاِلٰى مَدْيَنَ اَخَاهُمْ شُعَيْبًا ۭ قَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ۭ

اونه وو جواب دَقوم دَهغه مګر داچه اُوئیل دوی اوباسئے دوی لره دَ کلی ستاسونه یقیناً دوی داسے خلق دی چه ځان پاك ګڼری (۸۲) پس بچ کړو مونږ دے او کورنئ دَ دهٔ مګر ښځه دَ دهٔ وه هغه دَپاتے کیدونکونه(په عذاب کښ)(۸۳) را اوورو مونږ پدوی باندے نا اشنا باران پس اوګوره چه څنګه وو انجام دَ مجرمانو (۸٤) اولیګلے ژو مونږ مدین والوته رور دَهغوی شعیب(علیه السلام) اُوئیل دهٔ اے قومه ځما بندګی خاص کړئے اللّٰه تعالیٰ لره نیشته تاسو لره هیڅ مددګار سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه

لوئے ګناه دے په نسبت دَ هغے چه دَ بل تابعداری کوی دارنګ یو بدعت کول دی اوبل بدعت ایجادکول دی دا دویم دَ اول نه غټ ګناه دے ﴿لِقَوْمِهٖٓ﴾ داقوم دَ هغه په دے اعتبار وؤچه دَ هغوی دَ قیام (نظام دینی دپاره رالیګلے شوے وؤیا په دے وجه چه سخرګنی دَ لوط علیه السلام وه ﴿الْفَاحِشَةَ﴾ هغه ګناه چه ښکاره وی اوعقل اوعرف کښ سرهٔ دَ شرع نه بدګنړلے کیږی قرطبی وئیلی دی چه زناته ئیے قرآن کښ فاحشه وئیلے ده اودے عمل دَ قوم لوط ته ئیے هم فاحشه اُوئیله معلومه شوه چه په دے عمل باندے هم سزا دَ زنابه جاری کیږی۔

[۸۱] دا بیان دَ هغه فاحشه دے ﴿مُّسْرِفُوْنَ﴾ نه مراد مشرکون دی اودارنګ دَ دے تفسیر په سورة عنکبوت (۲۹) کښ راغلے دے۔

[۸۲] دَ دے قوم یوجواب دا دے اوداسے په سورة نمل(٥٦) کښ دی اوبل جواب دَ دوی په سورة عنکبوت(۲۹)کښ دے او په دواړه کښ طریقه دَ حصرده نوفرق دا دے چه دا جواب دَ دوی په باره دَ لوط علیه السلام کښ وؤ اوهغه دَ سورة عنکبوت جواب په باره دَ خپلوځانونو کښ دے ﴿اَخْرِجُوْهُمْ﴾ لنخرجن ئیے نه دے وئیلے اشاره ده چه دا قوم په سبب دَ دے خسیس عمل سره بے غیرته شوے وؤنویوبل ته وائي چه دوی اوباسئی ﴿اِنَّهُمْ اُنَاسٌ﴾ دا وینا دَ هغوی په طریقه دَ مسخرے سره وه قتاده وئیلی دی عَابُوهُم واللّٰهِ بِغَيْرِ عَيْبٍ (قسم په اللّٰه تعالیٰ چه دوی دَ هغوی نقصان وئیلو بغیرَ عیب نه په هغوی کښ۔)

[۸۳] ښځه دَ لوط علیه السلام مشرکه وه ځکه عذاب کښ پاتے شوه دا په سورة تحریم (۱۰) کښ ذکردی۔ ﴿وَاَهْلَهٗٓ﴾ دَ سورة ذاریات(۳٦) نه معلومه ده چه سیوا دَکور دَ هغه نه بل چا ایمان نه وؤراوړے اوتاریخ کښ لیکلی دی چه دهغه صرف دوه لونړه وے ﴿الْغٰبِرِيْنَ﴾ غبرَ اضدادونه دے تیرشوے اوباقے پاتے شوے دواړوته وئیلے شی دلته دویمه معنیٰ مراد ده۔ اوصیغه دَ مذکرکښ اشاره ده چه دَ دے ښځے عذاب هم پشان دَ نارینودَ هغه قوم وؤ اګرچه سبب ئیے جدا جدا وؤ۔

[۸٤] دے ایت کښ دَ دوی یوقسم عذاب ذکرشویعنی باران دَکانړوپه دلیل دَ مطراً نکره سره اوپه سورة هود (۸۲) او حجر(۷٤)کښ نورعذابونه هم ذکرشوی دی دلته دَ دے یوعذاب ذکرخاص اوشواشاره ده چه اصل عذاب دَ هلاکت دَ دوی دا یو وؤاونور ورسره مقدمات دَ عذاب وؤ اودارنګ دا سزا دَ داسے عمل کوونکوپه دُنیاکښ هم ده۔

قَدْ جَآءَتْكُمْ بَيِّنَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ فَاَوْفُوا الْكَيْلَ وَالْمِيْزَانَ وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ اَشْيَآءَهُمْ وَلَا تُفْسِدُوْا فِى الْاَرْضِ بَعْدَ اِصْلَاحِهَا ؕ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۸۵﴾ وَلَا تَقْعُدُوْا بِكُلِّ صِرَاطٍ تُوْعِدُوْنَ وَتَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ مَنْ اٰمَنَ بِهٖ وَتَبْغُوْنَهَا عِوَجًا ۚ وَاذْكُرُوْٓا اِذْ كُنْتُمْ قَلِيْلًا فَكَثَّرَكُمْ ۪ وَانْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِيْنَ ﴿۸۶﴾ وَاِنْ كَانَ طَآئِفَةٌ مِّنْكُمْ اٰمَنُوْا بِالَّذِىْٓ اُرْسِلْتُ بِهٖ وَطَآئِفَةٌ لَّمْ يُؤْمِنُوْا فَاصْبِرُوْا حَتّٰى يَحْكُمَ اللّٰهُ بَيْنَنَا ۚ وَهُوَ خَيْرُ الْحٰكِمِيْنَ ﴿۸۷﴾

یقیناً راغلے دہ تاسوتہ بښکارہ معجزہ دَ طرف دَ رب ستاسونہ پس پورہ کوئ پیمانہ اوتلہ اومہ کموئ دَخلقونہ مالونہ دَھغوی اوورانے مہ کوئ پہ زمکہ کښ پس دَاصلاح دَھغے نہ داکارونہ فائدے والا دی تاسو لرہ کہ یئ تاسو ایمان والا (۸۵) اومہ کینئ پہ ھرہ لارکښ چہ ویروئ اومنع کوئ دَ لارے دَ اللّٰہ تعالیٰ نہ ھغہ څوك چہ ایمان راوړی پہ ھغہ اولتوئ پہ دے کښ کوږ والے اویاد کړئے ھغہ وخت چہ وئ تاسولږ پس ډیرئے کړئے تاسو او اوګورئے څرنګ ژوو انجام دَ روانی کژونکو (۸۶) اوکہ وی یوډلہ ستاسونہ چہ ایمان لری پہ ھغہ څہ چہ رالیږلے شوے یم څہ پہ ھغے اوبلہ ډلہ وی چہ ایمان نہ لری پس انتظار اوکړئے تردے چہ فیصلہ اوکړی اللّٰہ تعالیٰ پہ مینځ زمونږ کښ اوھغہ غورہ فیصلہ کژونکے دے (۸۷)

[۸۵] داپنځمہ واقعہ دہ دَ دویمے دعوے سرہ تعلق لری دلیل نقلی دے پہ مسئلہ دَ توحید باندے اومنع کول دَ قوم دی دَ تابعداریٔ دَ شیطان نہ پہ بارہ دَ حرامہ امدنئے کښ۔ مدین ځوئے وژدَ ابراھیم علیہ السلام اودَ ھغہ پہ نوم سرہ دا ښارمشھورشواو شعیب علیہ السلام پہ دوہ پشتہ کښ دَ اولاد دَ مدین نہ وژ اودۂ تہ خطیب الانبیاء وئیلے کیږی۔ پہ دے قصہ کښ اول دعوت دَ توحید دے بیا اثبات دَ رسالت اوذکردَ معجزے (چہ معین نہ دہ) دے بیا دعوت دے احکاموماليوتہ دپارہ دَ اصلاح بیا نھی دہ دَعام افساد نہ﴿بَيِّنَةٌ﴾ دے نہ معجزہ مراد دہ لیکن قرآن اوسنت کښ دَ ھغے څہ تعین نیشتہ ﴿الْكَيْلَ وَالْمِيْزَانَ﴾ پہ سورۃ ھود (۸۵) کښ المکیال لفظ دے وجہ دَ فرق دا دہ چہ دلتہ دَ الکیل والمیزان نہ معنیٰ مصدری مراد دہ اوپہ ھغہ سورۃ کښ الٰہ دَکیل اودَ وزن مراد دہ ﴿وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ﴾ دا لفظ شامل دے غلا اوغصب اولوټ ماراوحیلے کول دپارہ دَحرام مال اخستلو وغیرہ ﴿بَعْدَ اِصْلَاحِهَا﴾ پہ بعثت دَ انبیاؤعلیھم السلام او رالیږل دَ احکاموشرعیوسرہ ﴿اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ﴾ یعنی خیر(ثواب) بہ ھغہ وخت وی چہ تاسوایمان راوړئے یا خیرنہ مراد خیریت دے پہ وصف دَ انسانیت کښ اوایمان نہ مراد معنیٰ لغوی دہ یا دا خطاب دَ دے وجے نہ وؤ چہ دوی دعویٰ دَ ایمان کولہ۔

[۸۶] روستودَ ذکردَ ضلال نہ اضلال ذکرکوی پہ منع سرہ ﴿وَلَا تَقْعُدُوْا﴾ مراد دَ صراط نہ ھغہ لاردہ چہ دَشعیب علیہ السلام کورتہ رسوونکے وہ اومراد دَ قعود نہ بښکارہ کیناستل دی یا مراد دَ صراط نہ کارونہ دَ دین دی چہ روستوئے ھغے تہ سبیل اللّٰہ وئیلے دے ﴿تُوْعِدُوْنَ﴾ منع کول پہ دوہ طریقے سرہ وژیو دباؤ کول اویرہ ورکول دویم پہ طریقہ دَ شبھاتواوطعنونوسرہ پہ حق والاباندے ﴿وَتَبْغُوْنَهَا﴾ تفسیردے دَ دویمے معنے۔ ﴿عِوَجًا﴾ پہ زیردَ عین سرہ استعمالیږی پہ معنوی ځیزونوکښ اوپہ زَوَرسرہ پہ جسمونوکښ۔

قَالَ الْمَلَاُ الَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖ لَنُخْرِجَنَّكَ يٰشُعَيْبُ وَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَكَ مِنْ قَرْيَتِنَآ اَوْ لَتَعُوْدُنَّ فِيْ مِلَّتِنَا ؕ قَالَ اَوَ لَوْ كُنَّا كٰرِهِيْنَ ﴿۸۸﴾ قَدِ افْتَرَيْنَا عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا اِنْ عُدْنَا فِيْ مِلَّتِكُمْ بَعْدَ اِذْ نَجّٰىنَا اللّٰهُ مِنْهَا ؕ وَمَا يَكُوْنُ لَنَآ اَنْ نَّعُوْدَ فِيْهَآ اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ رَبُّنَا ؕ وَسِعَ رَبُّنَا كُلَّ شَيْءٍ عِلْمًا ؕ عَلَى اللّٰهِ تَوَكَّلْنَا ؕ رَبَّنَا افْتَحْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ قَوْمِنَا بِالْحَقِّ وَ اَنْتَ خَيْرُ الْفٰتِحِيْنَ ﴿۸۹﴾ وَقَالَ الْمَلَاُ

اُوئیل غټانو هغه چه لوئی ئے کړے وه دَقوم دَهغه نه خامخا اوبه باسو مونږ تاسے شعیبه اوهغه څوك چه ایمان ئے راوړے دے ستاپه ملګرتیا کښ دَ کلی زمونږ نه یابه واپس شئ په دین زمونږ کښ اُوئیل هغه اګرچه مونږ بدګنړو (۸۸) یقیناً مونږ جوړ کړی به وی په اللّٰه تعالیٰ باندے دروغ که چرے واپس شو مونږ په دین ستاسو کښ پس دَ هغے نه چه بچ ساتلی یومونږ اللّٰه دَهغے نه اونه دی جائز مونږ لره چه واپس شو دین ستاسو ته مګر دا چه اوغواړی اللّٰه تعالیٰ رب زمونږ، راګیر کړے دے رب زمونږ هرشے په علم خپل کښ خاص په اللّٰه تعالیٰ باندے ځان سپارلے دے مونږ، اے ربه زمونږ فیصله اوکړے په مینځ زمونږ اوپه مینځ دَقوم زمونږ کښ حقه فیصله اوته غوره دَ فیصله کوؤنکونه ئے (۸۹) او اُوئیل غټانو

﴿وَاذْكُرُوْٓا﴾ ترغیب دے ﴿وَانْظُرُوْا﴾ تخویف دے ﴿قَلِيْلًا﴾ په اعتباردَ مال یا دَ عدد دَ اشخاصو سره اودا اوامرنواهی اوترغیب اوتخویف ذکرکول په تبلیغ کښ صفت دَ خطابت دے ځکه دهٗ ته خطیب وئیلے کیدلو ﴿الْمُفْسِدِيْنَ﴾ دا لفظ شامل دے دَ دوی شرك، حرام خورئے اودَ حق نه منع کولو ته۔

[۸۷] دا هم داخل دے په قول دَ شعیب علیہ السلام کښ اودیته محاکمه دَ دعوت وئیلے شی اوتخویف دے په نرم عنوان سره ﴿فَاصْبِرُوْا﴾ په معنیٰ دَ انتظار دے په معنی دَ صبراو دَکلك کیدلونه دے ځکه چه په غلط دین باندے دَ مضبوط کیدلو امرنبی نه کوی لفظ دَ حاکمین دلیل دے چه انسان ته هم حاکم وئیل جائز دی۔ اوخیرپه حکم دَ اللّٰه تعالیٰ کښ دادے چه هغه پوخ وی اوبناء وی په عدل کامل اوځوك ئے مقابله نشی کولے۔

[۸۸] په دے ایت کښ طریقه دَ تکذیب دَ هغوی ذکرده ﴿اَوْلَتَعُوْدُنَّ﴾ سوال دادے چه عود په معنیٰ دَ واپس کیدلو دے مخکښ حال ته نوشعیب علیہ السلام خو مخکښ دَ دوی په ملت کښ نه وؤ؟ جواب دادے چه هرکله شعیب علیہ السلام دَ نبوت نه مخکښ چپ وؤنودوی خیال اوکړو چه دے زمونږملګرے وؤپه دین کښ ﴿اسْتَكْبَرُوْا﴾ دوی هم سرمایه دار وؤ دَ دے وجے دَ دوی په وصف کښ استکبارذکرکړو په شان دَ ثمودیانو ﴿قَالَ اَوَلَوْ كُنَّا كٰرِهِيْنَ﴾ دا جواب دے دَ طرف دَ شعیب علیہ السلام نه پوخ جواب دے په نرمه لهجه سره چه مونږخوستاسودین بدګنړو۔

[۸۹] دا ایت هم دَ قال دَ لاندے داخل دے قول دَ شعیب علیہ السلام دے دلالت کوی چه مرتدکیدل ډیرلوئے ګناه دے دا په اللّٰه تعالیٰ باندے افتراء کول دی اوپه دے کښ اشاره ده چه بدګنړل دَ عود کفرته پوره ایمان دے لکه حدیث دَ "ذَاقَ طَعْمَ الْایمان" کښ دی ﴿اِلَّآاَنْ يَّشَآءَ﴾ دا استثناء منقطع ده یا متصل مفرغ هم کیدے شی اومقصد په دیکښ تفویض الی اللّٰه تعالیٰ دے تعلیق مراد نه دے او دا صریح دلیل دے چه کفرهم په مشیئت دَ اللّٰه تعالیٰ کښ داخل دے ﴿وَسِعَ رَبُّنَا﴾ دا دوه جملے په طریقه دَ وسیلے سره دی په صفاتودَ اللّٰه تعالیٰ سره او وړسے په ﴿رَبَّنَا افْتَحْ﴾ سره دُعا ده رَبَّنَا افتَح دا دُعا دَ شر ده په لهجه دَ دُعا دَ خیرکښ اودا

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖ لَئِنِ اتَّبَعْتُمْ شُعَيْبًا اِنَّكُمْ اِذًا لَّخٰسِرُوْنَ ﴿۹۰﴾ فَاَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ فَاَصْبَحُوْا
فِيْ دَارِهِمْ جٰثِمِيْنَ ﴿۹۱﴾ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا شُعَيْبًا كَاَنْ لَّمْ يَغْنَوْا فِيْهَا ۚ اَلَّذِيْنَ كَذَّبُوْا شُعَيْبًا كَانُوْا
هُمُ الْخٰسِرِيْنَ ﴿۹۲﴾ فَتَوَلّٰى عَنْهُمْ وَقَالَ يٰقَوْمِ لَقَدْ اَبْلَغْتُكُمْ رِسٰلٰتِ رَبِّيْ وَنَصَحْتُ لَكُمْ ۚ فَكَيْفَ اٰسٰى
عَلٰى قَوْمٍ كٰفِرِيْنَ ﴿۹۳﴾ وَمَآ اَرْسَلْنَا فِيْ قَرْيَةٍ مِّنْ نَّبِيٍّ اِلَّآ اَخَذْنَآ اَهْلَهَا بِالْبَاْسَآءِ وَالضَّرَّآءِ لَعَلَّهُمْ
يَضَّرَّعُوْنَ ﴿۹۴﴾ ثُمَّ بَدَّلْنَا مَكَانَ السَّيِّئَةِ الْحَسَنَةَ حَتّٰى عَفَوْا وَّقَالُوْا قَدْ مَسَّ اٰبَآءَنَا الضَّرَّآءُ وَالسَّرَّآءُ

هغه کسان چه کفرئے کړے ؤو دَقوم دَهغه نه که تاسو تابعداری اوکړه دَشعیب(علیه السلام) یقیناً تاسوبه شئے دَ تاوان والونه(۹۰) پس اونیوو دوی لره زلزلے پس شول دوی په کلی خپل کښ پرمخے پراته (مړه) (۹۱) هغه کسان چه دروغژن ئے ګڼړو شعیب(علیه السلام) ګویاکه نه وو دیره شوی په هغے کښ هغه کسان چه دروغژن ئے اوګڼړو شعیب(علیه السلام) شول دوی تاوان والا(۹۲) پس روان شو دَ دوی نه او اُووئیل دهٗ اے قومه ځما یقیناً رسولی دی ماتاسوته پیغامونه دَ رب خپل او خیرم لتولے دے ستاسو پس څنګه خفګان اوکړم په(هلاکت دَ) قوم کافرانو باندے (۹۳) اونه دے لیږلے مونږ په هیڅ کلی کښ پیغمبر(چه هغوی انکار اوکړو) مګر اونیول مونږ اوسیدونکی دَهغے په سختو دَمال اوپه مرضونو سره دے دپاره چه دوی عاجزی اوکړی(اللّٰه تعالیٰ ته)(۹۴) بیا بدل کړه مونږ په ځائے دَسختئے خوشحالی تردے پورے چه زیات شو دوی او اُوئیل دوی یقیناً رسیدلی دی مشرانو زمونږ ته ضررونه اوخوشحالئ

هم خطابت دَ شعیب(علیه السلام) دے۔

[۹۰] او هرکله چه دباؤ دَ هغوی هیڅ فائده اونکړه نو بله طریقه ئے اختیارکړله چه هغه منع کول وؤمؤمنانولره دَ ایمان نه اتباع دَ نبی ته ئے خسران اُوئیلو دا زعم دَ باطل پرستودے۔

[۹۱] دَ دوی هم بل عذاب صیحه ده چه په سورهٔ هود (۹٤) کښ ذکر دے دا ایت پشان دَ (۷۸) دے۔

[۹۲] دا په مقابله دَکافرانوکښ ده هغوی وئیل چه تابعداری دَ شعیب(علیه السلام) سبب دَ خسران دے ﴿اَلَّذِيْنَ كَذَّبُوْا﴾ مبتدا ده اوخبرئے محذوف دے یعنی فنوا (فنا شول) ﴿يَغْنَوْا﴾ دا دَ غنی نه ماخوذ دے (دیره کیدل په یومکان کښ په عیش عشرت سره) ﴿كَانُوْا هُمُ الْخٰسِرِيْنَ﴾ دا حصر په نسبت دَ اتبعتم سره دے یعنی حصراضافی دے۔

[۹۳] دا دلیل دے چه کله په کافرانو او ظالمانو عذاب او مرګ راشی نوپه هغے باندے غم اوخفګان نه دے پکار داسے ایت په (۷۹) کښ تیرشو۔ فرق دادے چه هلته رسالة مفرد وؤ اودلته جمع ده وجه دا ده چه شعیب(علیه السلام) په خپل دعوت کښ ډیر پیغامات ذکرکړل ﴿اٰسٰى﴾ غمخوری اوهمدردی کولو ته وئیلے شی ﴿عَلٰى قَوْمٍ﴾ نه علی عذابهم مراد دے نوکه دَ هغوی په کفرکولوباندے خفګان کوی نوجائز دے لکه نورو نصوصو نه معلومیږی۔

[۹٤] دا درے ایتونه دَمخکښ واقعاتوسره تعلق لری چه په دے قومونوباندے امتحان دَمصیبتونواوبیا دَ نعمتونوراغلے وؤاشاره ده چه اللّٰه تعالیٰ دَ دے قومونوهیڅ معذرت نه دے پریښودلے په هره طریقے سره دوی

فَاَخَذْنٰهُمْ بَغْتَةً وَّهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿٩٥﴾ وَلَوْ اَنَّ اَهْلَ الْقُرٰٓى اٰمَنُوْا وَاتَّقَوْا لَفَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَرَكٰتٍ مِّنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ وَلٰكِنْ كَذَّبُوْا فَاَخَذْنٰهُمْ بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿٩٦﴾ اَفَاَمِنَ اَهْلُ الْقُرٰٓى اَنْ يَّاْتِيَهُمْ بَاْسُنَا بَيَاتًا وَّهُمْ نَآئِمُوْنَ ﴿٩٧﴾ اَوَ اَمِنَ اَهْلُ الْقُرٰٓى اَنْ يَّاْتِيَهُمْ بَاْسُنَا ضُحًى وَّهُمْ يَلْعَبُوْنَ ﴿٩٨﴾ اَفَاَمِنُوْا مَكْرَ

پس اونیول مونږ دوی لره ناګاهه او دوی نه پوهیدل (۹۵) اوکه یقیناً دے کلو والو ایمان راوړے وے اوځان ئے بچ کړے وے دَشرك نه خامخا پرانستے به وو مونږ په دوی باندے برکتونه دَآسمان او دَزمکے نه لیکن دوی دروغژن اوګنړل (پیغمبران) پس اونیول مونږ دوی (په عذاب سره) په سبب دَهغے عملونو چه دوی کول(۹۶) آیا په امن دی داکلو والا دَ دے نه چه رابه شی دوی ته عذاب ځمونږ دَشپے او دوی به اودهٔ وی (۹۷) اوآیا بچ به شی داکلو والا دَ دے نه چه رابه شی دوی ته عذاب ځمونږ په وخت دَساخت کښ او دوی به لوبے کوی (۹۸) آیا یے یرے دی دوی دَ عذاب

ته سبب دَهدایت جوړ کړے وؤاودیته ابتلاء بالنعم والنقم وئیلے شی لکه په سورة انعام(٤٢)کښ دی﴿اِلَّآ اَخَذْنَآ﴾ دَ دے نه مخکښ کذبوا پټ دے چه دلیل په هغے باندے تیرے شوے قصے دی﴿بِالْبَاْسَآءِ﴾په سختئ کښ انسان اکثراللّٰه تعالیٰ ته رجوع کوی اوتوبه کوی دائے ځکه مخکښ کړله۔

[۹۵] په دے ایت کښ ابتلاء بالنعم ذکرکوی ﴿اَلْحَسَنَةَ﴾ نه مراد وسعت دَ مالونواوصحت دَ بدنونو دے۔﴿عَفَوْا﴾ زیات شول، عفو زیاتیدلوته وائي لکه حدیث کښ راځی واعفوا اللحی، زیاتے کړئے گیرے۔ ﴿وَقَالُوْا قَدْ مَسَّ﴾ یعنی دوی وئیل چه دا دَ زمانے رفتاراوانقلاب دے چه کله تکلیف وی اوکله خوشحالی دا دَګناهونوپه وجه سره نه دے دالوئیے قسوة (سخت والے) دَ زړونودے چه په هیڅ حالت کښ اللّٰه تعالیٰ ته رجوع نه کوی دا سبب دَ عذاب دے ﴿بَغْتَةً﴾ چه تاریخ ورځ او وخت ئیے معلوم نه وی سره دَ غفلت نه دے ته بغتة وئیلے شی اګرچه علامات راغلی وی لیکن دَ هغے نه عبرت نه اخلی۔

[۹۶] دا هم تعلق لری دَ مخکښ واقعاتوسره مطلب دا دے چه ایمان اودَ شرك نه ځان بچ کول سبب دَ نازلیدلو دَ برکتونو دے لیکن هغه قومونوشرك اوکړواودَ اللّٰه تعالیٰ دَحکم خلاف ئے اوکړونوپه هغوی عذابونه راغلل اوپه دے ایت کښ مقصد وعظ دے روستوقومونوته چه ایمان اوتقویٰ حاصل کړئے دپاره دَ ترقئ دُنیوی ﴿بَرَكٰتٍ﴾ نه مراد بارانونه اوبوتې غلے میوے او وسعت دَ رزق دے داسے په سورة نوح (۱۲،۱۱)کښ ذکردی﴿فَاَخَذْنٰهُمْ﴾ مراد دَ دے نه هغه مختلف عذابونه دی چه تیر شوی قومونوباندے راغلی وؤ۔

[۹۷] دا ځلور ایتونه دَ موجوده خلقوحال ذکرکوی کوم چه شرك کوی چه دوی هم دَ اللّٰه تعالیٰ دَ عذاب نه نشی بچ کیدے که دَ شپے عذاب راځی اوکه دَ ورځے راځی۔ په دے ایت کښ عذاب دَ شپے ذکرکړے دے ﴿اَفَاَمِنَ﴾ فا دپاره دَ تعقیب ده او﴿اَلْقُرٰى﴾ نه مراد موجوده خلق دی یعنی روستو دَ تکذیب نه دَ عذاب راتلل ضروری دی۔

[۹۸] په دے ایت کښ عذاب دَ ساخت وخت (دَ ورځے) ذکر دے او اشاره ده چه منکرین یا په خوب اوده وی یا په لوبو کښ مشغوله وی دا دَ دوی ژوند دَ دُنیا دے چه په خوب اولعب کښ تیریږی معلومه شوه چه ټوله شپه خوب کول اودَ ساخت وخت کښ لوبے کول دَ مؤمنانو دَ شان سره مناسب دی۔

اللّٰهِ ۚ فَلَا يَاْمَنُ مَكْرَ اللّٰهِ اِلَّا الْقَوْمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿۹۹﴾ اَوَلَمْ يَهْدِ لِلَّذِيْنَ يَرِثُوْنَ الْاَرْضَ مِنْۢ بَعْدِ
اَهْلِهَآ اَنْ لَّوْ نَشَآءُ اَصَبْنٰهُمْ بِذُنُوْبِهِمْ ۚ وَنَطْبَعُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ فَهُمْ لَا يَسْمَعُوْنَ ﴿۱۰۰﴾ تِلْكَ الْقُرٰى
نَقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ اَنْۢبَآئِهَا ۚ وَلَقَدْ جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ ۚ فَمَا كَانُوْا لِيُؤْمِنُوْا بِمَا كَذَّبُوْا مِنْ
قَبْلُ ۭ كَذٰلِكَ يَطْبَعُ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۱۰۱﴾ وَمَا وَجَدْنَا لِاَكْثَرِهِمْ مِّنْ عَهْدٍ ۚ وَاِنْ وَّجَدْنَآ اَكْثَرَهُمْ

دَ اللّٰه نه پس نه بے یرے کیږی دَعذاب دَ اللّٰه تعالیٰ نه مګر قوم تاوان والا (۹۹) آیانه ده ښکاره شوے هغه کسانوته چه وارثان شوی دی دَزمکے پس دَ اوسیدونکو دَهغے نه داخبره که اوغواړو مونږ اوبه رسوو دویته عذاب په سبب دَګناهونو دَ دوی اومهر لګوو مونږ په زړونو دَ دوی پس دوی غوږ نه ږدی (۱۰۰) دغه کلی بیانوو مونږ په تاباندے بعضے دَخبرونو دَهغوی نه اویقیناً راغلی ؤو دوی ته رسولان دَهغوی په ښکاره حکمونو سره پس نه وو هغوی چه ایمان ئے راوړے وے په سبب دَهغے چه انکار کړے وو دوی دَمخکے نه دَ دے وجے نه مهروهی اللّٰه تعالیٰ په زړونو دَکافرانو باندے (۱۰۱) اونه دے موندلے مونږ دِیرو خلقو لره پوره والے دَلوظ اویقیناً موندلی دی مونږ دِیرو خلقو لره

[۹۹] روستودَ خاص اوقاتونه اوس عموم دَ وختونوته اشاره ده ﴿مَكْرَ﴾ عذاب دَ اللّٰه تعالیٰ په طریقه دَ استدراج اومهلت سره دے۔ په دے ایت کښ دا من نه مرادیے خوفه کیدل دی په دُنیاکښ یعنی دَ دوی په زړونو کښ دَ اللّٰه تعالیٰ دَ عذاب نه هیڅ یره نه وی اوسورۃ انعام ایت(۸۲) کښ دَ اَمَن نه مراد بچ کیدل دی دَ عذاب دَ اللّٰه تعالیٰ نه په توحید سره نوتعارض نه راځی۔

[۱۰۰] په دے ایت کښ زورنه ده اویره هم ده په عذاب دُنیوی سره اوپدیکښ تاکید دَ مخکښ ایاتونودے په عذاب راتللو سره﴿يَهْدِ﴾دلته دَ هدایت نه مراد هدایت عقلی دے یعنی عقل ته ښکاره کیدل﴿بِذُنُوْبِهِمْ﴾ اشاره ده چه په دے موجوده خلقوکښ هغه ټول ګناهونه جمع شویدی کوم چه په مخکښ قومونوکښ یویودوه دوه موجود وؤاودَ دوی دَ غفلت سبب ئے ذکرکړومهرپه زړونو اوحق نه اوریدل مهرد زړه سبب دے دپاره دَ مهرد غوږونودَ دے وجے نه فَهُم کښ فا ذکرکړله۔

[۱۰۱] په دے کښ دَ مخکښ قومونوذکردے دپاره دَ تذکیرد موجوده خلقوچه حالت دَ موجودو مشابه دے دَحالت دَ مخکنو سره چه هغوی ته رسولان راغلی وؤ۔ او دوی ته هم رسول راغلے دے لیکن په هغوی کښ درے درجے دَ مخالفت وے هغه په دے موجوده کښ هم دی هغه درے درجے دَ منکرینو دا دی اول تکذیب دویم دَ ایمان نه محروم والے او دریم مهر لګول۔

لَفٰسِقِيْنَ ﴿۱۰۲﴾ ثُمَّ بَعَثْنَا مِنْۢ بَعْدِهِمْ مُّوْسٰى بِاٰيٰتِنَآ اِلٰى فِرْعَوْنَ وَمَلَا۟ئِهٖ فَظَلَمُوْا بِهَا ۚ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ
عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِيْنَ ﴿۱۰۳﴾ وَقَالَ مُوْسٰى يٰفِرْعَوْنُ اِنِّيْ رَسُوْلٌ مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۰۴﴾ حَقِيْقٌ عَلٰٓى اَنْ لَّآ اَقُوْلَ
عَلَى اللّٰهِ اِلَّا الْحَقَّ ۭ قَدْ جِئْتُكُمْ بِبَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ فَاَرْسِلْ مَعِيَ بَنِيْٓ اِسْرَاۗءِيْلَ ﴿۱۰۵﴾ قَالَ اِنْ كُنْتَ جِئْتَ
بِاٰيَةٍ فَاْتِ بِهَآ اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿۱۰۶﴾ فَاَلْقٰى عَصَاهُ فَاِذَا هِيَ ثُعْبَانٌ مُّبِيْنٌ ﴿۱۰۷﴾ وَنَزَعَ يَدَهٗ فَاِذَا

خامخا نافرمان(۱۰۲) بیا اولیږلو مونږه روستو د دغے پیغمبرانونه موسیٰ(علیه السلام) په معجزاتو ځمونږ فرعون ته اوغټانو دَقوم دَهغه ته پس هغوی انکار اوکړو دَهغے نه په عناد سره پس اوګوره چه څه رنګ شو انجام د وړانی کوونکو (۱۰۳) او اُوئیل موسیٰ(علیه السلام) اے فرعونه یقیناً ځه رسول یم د رب العٰلمین د طرف نه(۱۰۴) کلك یم په دے چه نه به وایم په الله تعالیٰ سیوا دَحق نه یقیناً راوړے دے ماتاسوته بنکاره بیان ستاسو د رب دَطرف نه پس پریږده ځماسره بنی اسرائیل (۱۰۵) اُوئیل (فرعون) که راوړے وی تاځه معجزه پس وړاندے کړه هغه که ئے ته دَرشتینو نه (۱۰۶)پس اوغورځوله ئے همسا خپله پس ناګاهه هغه خامار وو بنکاره (۱۰۷) اور اویستلو لاس خپل (دَګریوان نه) پس ناګاهه

[۱۰۲] دا متعلق دے د مخکنواوروستنوټولو کافرانوسره اومشترك علت د عذاب دے ﴿عَهْدٍ﴾ نه مراد وفا دَ وعدے دَ توحید ده چه په عالم الارواح کښ اخستے شوے ده اوپه واسطهٔ د پیغمبرانو تازه شوے ده۔

[۱۰۳] دَ دے ځائے نه دویم باب دے تر(۱۶۸) پورے په دے کښ تفصیلی واقعه دَ موسیٰ ده تقسیم ده په شپږمقاماتو کښ اودَ دے تعلق دَ سورهٔ دَ اولے دعوے سره دے یعنی موسیٰ(علیه السلام) ډیرمصیبتونه دَ الله تعالیٰ دَ دین دپاره تیرکړی دی اوزړه ئیے نه دے تنګ شوے قصه دَموسیٰ(علیه السلام) په ځلورو سورتونوکښ په تفصیل سره راغلے ده دا سورت اوسورهٔ طٰهٰ اوسورهٔ شعراء اوسورهٔ قصص په هرسورت کښ ابتدا اواختتام ئیے په جدا جدا طریقے سره دے اوحکمتونه پکښ ډیردی لیکن لوئے حکمت پکښ تشجیع ده په بیان دَحق کښ۔ په دے اول ایت کښ خلاصه دَ واقعے ده بعثت دَ موسیٰ(علیه السلام) تکذیب دَ فرعونیانواوبیا هلاکت دَ هغوی ﴿مِنْۢ بَعْدِهِمْ﴾ دا دلیل دے چه په شعیب(علیه السلام) پسے موسیٰ(علیه السلام) رالیګلے شویدے۔

[۱۰۴] دَ دے ځائے نه تر(۱۲۶) پورے اول مقام دے پدیکښ دعوت دے فرعون ته اوهغه ته معجزے پیش کول بیا دَساحرانو سره مقابله کول اودَ ساحرانو بهادری پس دَ ایمان راوړلونه یعنی شجاعت دَ موسیٰ(علیه السلام) اودَ ساحرانو روستودَ ایمان راوړلو نه په دے کښ دوه مدعاګانے دی یو رسالت دَ موسیٰ(علیه السلام) دویم توحید دَ ربوبیت او ﴿يٰفِرْعَوْنُ﴾ کښ خطاب دے په نرمه لهجه سره ځکه چه دا دَ هغه لقب وؤپه نوم سره ئیے خطاب نه دے کړے اودا دَ طریقو دَ دعوت نه ده۔

[۱۰۵] په اوله جمله کښ اثبات دَتوحید دے دویمه جمله کښ تاکید دَتوحید اودَ رسالت دے په معجزه سره دریمه جمله کښ ازادول دَ مؤحدینودی ﴿حَقِيْقٌ﴾ مبالغه ده په حق کښ په معنیٰ دَ ثابت اومبتدا حذف ده اَنَا ثَابِتٌ مُسْتَمِرٌ یا حَقِيقٌ په معنیٰ دَحریص دے۔

[۱۰۶] اشاره ده چه فرعون هم دَ مطلق معجزاتوقائل وؤ لیکن ضدی وؤاوهغه هم منله چه معجزه دلیل دَ صدق رسول دے۔

هِيَ بَيْضَآءُ لِلنّٰظِرِيْنَ ﴿۱۰۸﴾ قَالَ الْمَلَاُ مِنْ قَوْمِ فِرْعَوْنَ اِنَّ هٰذَا لَسٰحِرٌ عَلِيْمٌ ﴿۱۰۹﴾ يُّرِيْدُ اَنْ يُّخْرِجَكُمْ
مِّنْ اَرْضِكُمْ ۚ فَمَاذَا تَاْمُرُوْنَ ﴿۱۱۰﴾ قَالُوْٓا اَرْجِهْ وَاَخَاهُ وَاَرْسِلْ فِي الْمَدَآئِنِ حٰشِرِيْنَ ﴿۱۱۱﴾ يَاْتُوْكَ بِكُلِّ سٰحِرٍ
عَلِيْمٍ ﴿۱۱۲﴾ وَجَآءَ السَّحَرَةُ فِرْعَوْنَ قَالُوْٓا اِنَّ لَنَا لَاَجْرًا اِنْ كُنَّا نَحْنُ الْغٰلِبِيْنَ ﴿۱۱۳﴾ قَالَ نَعَمْ وَاِنَّكُمْ لَمِنَ

هغه تك سپين وو دپاره دَ كتونكو(۱۰۸) اُوئيل غټانو دَقوم دَ فرعون نه يقيناً دا خامخا جادوګر دے ماهر (۱۰۹) غواړي چه اوباسي تاسو دملك ستاسونه پس څه حكم كوئ تاسو(۱۱۰) دوی اُوئيل مهلت ورکړه دهٔ لره او ورور دَ دهٔ لره او اوليږه په ښارونو كښ راجمع كوونكی (۱۱۱) رابه ولی تاته هر جادوګر ماهر (۱۱۲) او راغلل جادوګر فرعون ته نو اُوئيل دوی آيا يقيناً مونږ له به خامخا مزدوری وی كه شو مونږ زورور(۱۱۳) او وے فرعون هاؤ يقيناً تاسو خامخا دَ

[۱۰۷] دا اوله معجزه ده دلالت كوی په انقلاب باندے سره دَ تخويف اوغلے نه په مقابلينوباندے۔ ﴿مُبِيْنٌ﴾يعنی حقيقت دَ هغے بدل شوے وؤصرف نظربندی نه وه اودلته شربينی دَ هغے اژدها مقدار اوهيبت ذكركړے دے تردے پورے چه په فرعون باندے دَيرے دَوجے نه دَ ستونه او لګيدل ځلورسوه دَ ستونه ئے اوشول۔ **سوال:** دلته اوشعراء كښ ئے ثعبان وئيلی دی اوسورة نمل (۱۰)كښ جان (نرے مار) وئيلے دے دَ دے څه تطبيق دے؟ **جواب(۱):** په صورت كښ ثعبان حقيقی وؤ ليكن په رفتاركښ په شان دَ جان تيز وؤ دَ دے وجے نه هلته ئے كأنها وئيلے دے۔ **جواب(۲):** په ابتداء دَ وحی كښ جان وؤ اودَ فرعون په مخكښ ثعبان وؤ دَ دے دپاره چه په هغه باندے ښه رعب راشی۔

[۱۰۸] دا دويمه معجزه ده دلالت كوی په انقلاب سره دَ رنړا اودَ بشارت نه۔ دَ نزع نه مخكښ ادخل يدك پټ دے په قرينه دَ سورة نمل (۱۲) او قصص (۳۲) ﴿لِلنّٰظِرِيْنَ﴾ لفظ دليل دے چه سپينوالے نا آشنا وؤخلق ئے په تعجب كښ اچول۔

[۱۰۹] اول فرعون سردارانو ته اُوئيل چه دا ساحر دے لكه سورة شعراء (۳٤)كښ دی بيادے مشرانودَ هغه په تقليدكښ عاموخلقوته داسے اُوئيل۔ هركله چه سِحر په هغه زمانه كښ پير موجود وؤ اوداسے سحر وؤچه په هغے سره په نظرباندے اثر كيدلو دَ دے وجے نه دوی موسیٰ عليه السلام باندے دا طعن او لګوؤ۔

[۱۱۰] دا بدنامه لګول دی چه دے ستاسونه دا وطن قبضه كوی ساحروئيل دَ عاموخلقو دهوكه كولودپاره وؤ اودا قول دَ اقتدار والودَ غصه كولودپاره دے۔

[۱۱۱] دے ايت كښ مشوره وركول دَ عاموخلقودی دَ مقابلے كولودَ موسیٰ عليه السلام سره۔

[۱۱۲] هغه وخت په مصركښ دَ سحرډيره چرچه وه اودَ سحرمدرسے وے اودَ هغے استاذان اوماهران وؤ۔اوعادت الٰهيه دا دے چه هرنبی له هغه معجزه وركوی چه دَ هغے زمانے سره مناسب وی اوسبب دَ غلبے شی۔

[۱۱۳] باطل پرست خلق هرعمل دَ دنيا په مقصد باندے كوی ځكه دوی دَ اُجرت ذكرمخكښ كوی۔ ﴿قَالُوْٓا﴾ كښ فا داخله نه كړه اشاره ده چه دا قول استيناف دے په جواب دَ سوال كښ دے دَ تاكيد دپاره۔ ﴿اِنْ كُنَّا نَحْنُ﴾ دا دليل دَ انصاف دَ هغوی دے چه هسے اجرت نه غواړی بغيردَ غلبے نه۔

[۱۱٤] هغه ورله زيات رغبت وركړو ځكه چه نزديكت بادشاه ته ډيره لويه مرتبه ده۔ شربينی ليكلی

الْمُقَرَّبِيْنَ ﴿١١٤﴾ قَالُوْا يٰمُوْسٰٓى اِمَّآ اَنْ تُلْقِيَ وَاِمَّآ اَنْ نَّكُوْنَ نَحْنُ الْمُلْقِيْنَ ﴿١١٥﴾ قَالَ اَلْقُوْا ۚ فَلَمَّآ اَلْقَوْا
سَحَرُوْٓا اَعْيُنَ النَّاسِ وَاسْتَرْهَبُوْهُمْ وَجَآءُوْ بِسِحْرٍ عَظِيْمٍ ﴿١١٦﴾ وَاَوْحَيْنَآ اِلٰى مُوْسٰٓى اَنْ اَلْقِ عَصَاكَ ۚ
فَاِذَا هِيَ تَلْقَفُ مَا يَاْفِكُوْنَ ﴿١١٧﴾ فَوَقَعَ الْحَقُّ وَبَطَلَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿١١٨﴾ فَغُلِبُوْا هُنَالِكَ وَانْقَلَبُوْا

نزدے کړے شوونه به یئ (په مرتبو کښ)(١١٤) اُوئیل دوی اے موسیٰ(علیه السلام) یاته اوغورزوه اویا به شو مونږ غورځوونکی(رومبی)(١١٥) او وے موسیٰ(علیه السلام) اوغورځوئے تاسو پس هرکله چه اوغورځولے هغی(رسئی اوهمساګانے) نوجادوئے اوکړو په سترګو دَخلقو باندے او اویرول ئے هغی اورائے وړو جادولوئے (په نیز دَ دوی)(١١٦) او وحی اوکړه مونږ موسیٰ(علیه السلام) ته چه اوغورځوه همسا خپله پس ناګاهه هغے تیرکړل هغه څه چه دوی جوړول(١١٧) پس ښکاره شو حق اوبے کاره شول هغه عملونه چه دوی کول(١١٨) پس کمزوری شول دوی په دغه وخت کښ اوشول (دافرعونیان)

دی مدد غوختل دَ فرعون دَ دوی نه ښکاره دلیل دے چه هغه عاجزدلیل بنده وؤدارنګ طلب دَ اجرت دَ ساحرانو دلیل وؤچه هغوی قادرنه وؤپه قلب دَ اعیانوباندے کنه ځان له به ئے سره اوسپین زرجوړول اواجرت طلب کولوته به محتاج نه وؤځوك چه دَ قلب اعیان دعویٰ کوی دروغ وائي۔

[١١٥] دا ادب دَ ساحرانودے دپاره دَ موسیٰ علیه السلام اودَ دے په وجه اللّٰه تعالیٰ دوی ته ایمان نصیب کړودا شربینی لیکلی دی۔

[١١٦] دا دلیل دے چه دَ سِحراثرحق دے اودا دَکمال دَ چاسره منافی نه دے ځکه چه موسیٰ علیه السلام باندے هم اثر اوشولکه په سورة طٰهٰ(٦٦) کښ دی اودا سحردَ نظربندئے وؤپه دے سره صرف دَ موسیٰ علیه السلام په قوت خیالیه باندے اثرشویدے سحردَ انبیاء په قوت عاقله باندے اثرنشی کولے ﴿عَظِيْمٍ﴾ اشاره ده چه عصاګانے او رسئی اوساحران ډیر زیات وؤ دا عظمت دَ هغے دے یا مراد دَ عظمت نه دَ دوی په نیزباندے وؤ۔

[١١٧] موسیٰ علیه السلام دَ وحی انتظارکوؤ ځکه ئے او فرمائیل ﴿وَاَوْحَيْنَآ﴾ اشاره ده چه معجزه په اختیاردَ نبی کښ نه وی چه څه وخت غواړی نو کولے شی نه بلکه هر وخت وحی ته محتاج وی ﴿تَلْقَفُ﴾ ښکاره معنیٰ دا ده چه هغه ښامار دَ عصا دَ موسیٰ علیه السلام ټولے رسئی اوعصاګانے دَ هغوی په خپله ځله کښ تیرے کړے بعضِ علماء وائي چه تیریدلونه مراد دا دے چه دَ هغوی اثرئے ختم کړو ﴿يَاْفِكُوْنَ﴾ افك معنیٰ اړول دَ څیزدَ اصل نه اوپه باطل کښ استعمالیږی نودوی صورتونه دَ رسواو همساګانو بدل کړی وؤ په مارانو سره نو اثردَ هغے ختم کول داهم تیرول دی۔

[١١٨] دا دَ مقابلے اوله نتیجه ده لفظ دَ ﴿فَوَقَعَ﴾ دلالت کوی په یقینی ظهور باندے چه هیڅ شك پکښ نه وی پاتے شوے ﴿وَبَطَلَ﴾ بے کاره اوبے اثره شول یا فنا شول دواړه احتمالونه دی۔

صٰغِرِيْنَ ﴿١١٩﴾ وَاُلْقِيَ السَّحَرَةُ سٰجِدِيْنَ ﴿١٢٠﴾ قَالُوْٓا اٰمَنَّا بِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٢١﴾ رَبِّ مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ ﴿١٢٢﴾
قَالَ فِرْعَوْنُ اٰمَنْتُمْ بِهٖ قَبْلَ اَنْ اٰذَنَ لَكُمْ ۭ اِنَّ هٰذَا لَمَكْرٌ مَّكَرْتُمُوْهُ فِي الْمَدِيْنَةِ لِتُخْرِجُوْا مِنْهَآ
اَهْلَهَا ۚ فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ﴿١٢٣﴾ لَاُقَطِّعَنَّ اَيْدِيَكُمْ وَاَرْجُلَكُمْ مِّنْ خِلَافٍ ثُمَّ لَاُصَلِّبَنَّكُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿١٢٤﴾

ذلیلان(۱۱۹) او اوغورځولے شول جادوګر سجده کوونکی(۱۲۰) اووئیل دوی ایمان راوړلے مونږ په رب العٰلمین باندے (۱۲۱) چه رب دَ موسیٰ(علیه السلام) او هارون(علیه السلام) دے(۱۲۲) او وے فرعون آیا ایمان راوړو تاسو په دهٔ باندے مخکښ دَ اجازت ځما نه تاسوته یقیناً دامعامله خامخا یوځرګه ده چه کړیده تاسو په دے ښار کښ دے دپاره چه اوباسئی دَ دے نه اوسیدونکی دَ دے پس زردے چه پوهه به شئ تاسو(۱۲۳) خامخا پرے به کړم لاسونه ستاسو اوخپے ستاسو ادل بدل بیابه خامخا په سولئی کړم تاسو پولو لره (۱۲۴)

[۱۱۹] په دیکښ ضمیرونه فرعونیانوته راجع دی اوصریح دلیل دے چه فرعون اله یا رب نشی کیدلے اودا دَ مقابلے بله ظاهری نتیجه ده۔

[۱۲۰] دا دَ هغوی نیك بختی وه چه دَحق ښکاره کیدلوسره ئے زرایمان راوړلواودَ حق دَ اثردَ وجے نه دوی ایمان راوړلوته مجبوره شول ځکه ئے مجهوله صیغه ذکرکړه وَاُلْقِيَ یا دَ جلتئے دَ سجدے کولوپه وجه ئے صیغه دَ مجهول ذکرکړه۔

[۱۲۱] دا اقرار اواعلان دَ ایمان دے اومخکنی ایت کښ عملی ایمان وؤ۔

[۱۲۲] دائے ځکه اُوئیل چه فرعون وهم اونکړی چه رب العالمین ځه یم ﴿وَهٰرُوْنَ﴾ لفظ کښ وهم دفع کول وؤیعنی فرعون اونه وائي چه رب موسیٰ ځه یم ځکه ما دَ دهٔ تربیت کړے دے هرکله چه هارون ئے ورسره ذکرکړو نومعلومه شوه چه هغه رب مراد دے چه موسیٰ او هارون دَ هغه توحید طرف ته دعوت ورکوی۔

[۱۲۳] دا دَ فرعون تلبیس دے په عاموخلقوباندے ورنه هغه ته ښه معلومه وه چه موسیٰ(علیه السلام) دَ دوی سره چرے جرګه نه ده کړے ﴿قَبْلَ اَنْ اٰذَنَ لَكُمْ﴾ په دے سره فرعون دَخپل استکبارذکرکوی چه هرڅه دَ هغه اذن ته محتاج دی اوحال دا چه ایمان راوړل اوحق منلوکښ دَ هیڅا اذن ته حاجت نیشته ﴿اِنَّ هٰذَا لَمَكْرٌ﴾ دا خالص دروغ دی اوصریح دلیل دے په عجزدَفرعون باندے چه هرکله هغه دَ مصردَ حالاتونه خبرنه لری نواله اورب څرنګ کیدلے شی ﴿لِتُخْرِجُوْا مِنْهَآ﴾ اشاره کوی چه دَ موسیٰ(علیه السلام) مقصد حکومت قبضه کول دی حال دا چه دَ هغه مقصد اقامت دَ دین وؤدا دَ باطل پرستوخلقوعادت دے چه په حق پرستوباندے دَ دُنیا پرستئی طعن لګوی ﴿فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ﴾ کښ دباؤذکرکوی اوپه طٰهٰ (۷۱) اوشعراء (۴۹) کښ وئیلی دی چه دا ستاسومشراستاد دے نو په هغے کښ اشاره کوی چه سبب دَ موافقت ستاسو په مشوره کښ دَ دهٔ سره دا دے چه دے ستاسواستاد دے نوپه هغه سورتونوکښ سبب ذکردے اوپه دے کښ مسبب ذکر دے سرهٔ دغایة نه چه لِتُخْرِجُوْا دے۔

[۱۲۴] داتفصیل دَ فسوف تعلمون دے لاس خپے ادل بدل پریکول اوبیا په سولئی خیژول دا دَ فرعون دَ وخت نه شروع شوی دی داسے ابن عباس نه نقل دی پدے کښ اشاره ده لوئے ظالم دَ فرعون ته ځکه چه

قَالُوْٓا اِنَّآ اِلٰى رَبِّنَا مُنْقَلِبُوْنَ ﴿۱۲۵﴾ وَمَا تَنْقِمُ مِنَّآ اِلَّآ اَنْ اٰمَنَّا بِاٰيٰتِ رَبِّنَا لَمَّا جَآءَتْنَا ؕ رَبَّنَآ اَفْرِغْ
عَلَيْنَا صَبْرًا وَّتَوَفَّنَا مُسْلِمِيْنَ ﴿۱۲۶﴾ وَقَالَ الْمَلَاُ مِنْ قَوْمِ فِرْعَوْنَ اَتَذَرُ مُوْسٰى وَقَوْمَهٗ لِيُفْسِدُوْا فِى
الْاَرْضِ وَيَذَرَكَ وَاٰلِهَتَكَ ؕ قَالَ سَنُقَتِّلُ اَبْنَآءَهُمْ وَنَسْتَحْىٖ نِسَآءَهُمْ ۚ وَاِنَّا فَوْقَهُمْ قٰهِرُوْنَ ﴿۱۲۷﴾ قَالَ
مُوْسٰى لِقَوْمِهِ اسْتَعِيْنُوْا بِاللّٰهِ وَاصْبِرُوْا ۚ اِنَّ الْاَرْضَ لِلّٰهِ ۙ يُوْرِثُهَا مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ ؕ وَ
الْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِيْنَ ﴿۱۲۸﴾ قَالُوْٓا اُوْذِيْنَا مِنْ قَبْلِ اَنْ تَاْتِيَنَا وَمِنْۢ بَعْدِ مَا جِئْتَنَا ؕ قَالَ عَسٰى رَبُّكُمْ اَنْ

اُوئیل دوی یقیناً مونږه خپل رب طرف ته ګرځیدونکی یو(۱۲۵)اوته بدنه ګنړے ځمونږنه مګر دا خبره چه ایمان راوړیدے مونږ په آیتونو دَ رب خپل هرکله چه راغلل مونږ ته اے ربه زمونږه راتوے کړے په مونږ ډیر صبر اومړه کړے مونږ په عقیده دَتوحید باندے(۱۲۶) اُوئیل غټانو دَ قوم دَفرعون نه آیا پریږدے ته موسیٰ(علیه السلام) اوقوم دَهغه دے دپاره چه ورانے اوکړی په دے ملك کښ اوپریږدی بندګی ستا اودَ معبودانو ستا اووئیل فرعون زردے چه وژنوبه ځامن دَ دوی او ژوندئ به پریږدو (بے حیا کووبه) زنانه دَ دوی اویقیناً مونږ دَ دوی دپاسه یو زورور (۱۲۷) اُوے موسیٰ(علیه السلام) قوم خپل ته مدد غواړئ دَ اللّٰه تعالیٰ نه او صبر کوئے یقیناً زمکه دَ اللّٰه تعالیٰ په اختیار کښ ده ورکوی ئے هغه چاته چه اوغواړی دَبندګانو خپلونه اوښه انجام دپاره دَپرهیزګارو دے(۱۲۸) او وے دوی تکلیفونه راکړے شویدی مونږ ته مخکښ دَراتلو ستانه او روستوهم دَراتلو ستانه مونږ ته او وے موسیٰ(علیه السلام) نزدے ده چه رب ستاسو

کومه سزا اللّٰه تعالیٰ دَ قطاع الطریق اومحاربه کوؤنکی دَ اللّٰه او رسول دپاره مقررکړے ده مائده (۳۳) کښ نوهغه فرعون دَ ایمان والودپاره مقررکړه۔

[۱۲۵]داد ساحرانو بهادری اوتثبت دے یعنی په مرګ کښ خپله فائده ګنړی چه خپل رب ته ورتلل دی۔

[۱۲۶] یعنی کوم کارچه سبب دَ اکرام دے هغه تا سبب دَ عیب اوګنړلودا دلیل دے په دے خبره چه همیشه دَ حق پرستوسره خلقودُشمنی دَ ایمان په وجه کړیده لکه په سورة بروج (۸)کښ دی۔ مفسرینولیکلی دی چه فرعون دَ دوی لاس خپے پریکړل اوپه سولئی ئے کړل۔ دَ مرګ وخت کښ دوی دا دُعا لوستله ﴿تَوَفَّنَا مُسْلِمِيْنَ﴾ اشاره ده چه دلته ایمان اواسلام یوځیز دے اودارنګ دین دَ ټولوانبیاؤ اسلام دے۔

[۱۲۷] دَ دے ځائے نه دویم مقام دے په درے ایتونو کښ۔ اوپه دے مقام کښ نورمصیبتونه په موسیٰ(علیه السلام) اودَ هغه په قوم بیانیږی او ورسره دَ هغوی تثبت دے، ایت کښ دَ فساد نه مراد اختلاف پیداکیدل دی په سبب دَ بیان دَ حق سره او دے ته همیشه باطل پرستوفساد وئیلے دے ﴿وَاٰلِهَتَكَ﴾ دَ دے نه مراد هغه معبودان دی چه په مصرکښ دَ فرعون په امرسره دَ هغوی عبادت کیدلوچه په هغے کښ شکلونه دَ فرعون اوغوا اوپیسهٔ اونمراوسپورمئے موجود وؤفرعون هم پخپله دَپیسهٔ عبادت کولواګرچه فرعون په مناظره کښ مغلوب اوعاجزشو لیکن سره دَ دینه ځان غالب ګنړی دا نهایت بے عقلی ده۔

[۱۲۸] په دے ایت کښ موسیٰ(علیه السلام) خپل قوم ته دَ مصیبتونوپه خلاف کښ دوه علاجونه اوخودل استعانت باللّٰه اوصبر کول اودوه زیری ئے بیان کړل یودَ دنیا بل دَ اخرت ﴿اَلْاَرْضَ لِلّٰهِ﴾ ملکیت حقیقی دَ ټولے

يُّهْلِكَ عَدُوَّكُمْ وَيَسْتَخْلِفَكُمْ فِي الْاَرْضِ فَيَنْظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۲۹﴾ وَلَقَدْ اَخَذْنَآ اٰلَ فِرْعَوْنَ
بِالسِّنِيْنَ وَنَقْصٍ مِّنَ الثَّمَرٰتِ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُوْنَ ﴿۱۳۰﴾ فَاِذَا جَآءَتْهُمُ الْحَسَنَةُ قَالُوْا لَنَا هٰذِهٖ ۚ وَاِنْ
تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَّطَّيَّرُوْا بِمُوْسٰى وَمَنْ مَّعَهٗ ؕ اَلَآ اِنَّمَا طٰٓئِرُهُمْ عِنْدَ اللّٰهِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ
لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۳۱﴾ وَقَالُوْا مَهْمَا تَاْتِنَا بِهٖ مِنْ اٰيَةٍ لِّتَسْحَرَنَا بِهَا ۙ فَمَا نَحْنُ لَكَ بِمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۳۲﴾ فَاَرْسَلْنَا

هلاك به کړی دُشمن ستاسو او روستو به آبادکړی تاسو په دے ملك کښ پس گوری به(په طریقه دَ امتحان) چه په کومه طریقه عمل کوئے تاسو(۱۲۹) او یقیناً نیولی وو مونږ فرعونیان په کلونو دَسوکړے اوپه کم والی دَمیوو دے دپاره چه دوی نصیحت واخلی(۱۳۰) پس هرکله چه به راغله دوی ته خوشحالی وئیل به دوی داحق ځمونږه دے اوکه اوبه رسیدو دوی ته څه تکلیف نوسپیره والے به ئے گنړلو دَموسیٰ(علیه السلام) او دَملګرو دَهغه خبردار یقیناً سپیره والے دَ دوی مقرر وو دَ نیز دَ اللّٰه تعالیٰ نه لیکن ډیر دَ دوی نه پوهیږی(۱۳۱) اووئیل دوی هرهغه چه راوړے ته مونږته څه نښه دپاره دَ دے چه جادو اوکړے په مونږ باندے په هغے سره پس نه یومونږ په تاایمان راوړونکی(۱۳۲) پس را اولیږو مونږ

زمکے اودَ زمکے دَ مصراللّٰه تعالیٰ لره دے اوپه ملکیت حکمی سره ئے اللّٰه تعالیٰ ورکوی اوتقسیم کوی۔

[۱۲۹] دا قول دَبنی اسرائیلوپه طریقه دَ اظهاردَ تثبّت وؤځکه موسیٰ علیه السلام هغوی ته نوردوه زیری دُنیوی پیش کړل ﴿اُوْذِيْنَا﴾ دَا ذی مخکښے نه مراد قتل اواستحیاء ده اونورکارونه دَ ذلت دَ بنی اسرائیلونه اخستل اودَ اذی روستنئی نه مراد دَ تذلیل کارونه اوبیا اراده دَ قتل او دَاستحیاء ده۔

[۱۳۰] دَ دے ځائے نه دریم مقام دے تر(۱۳۷) پورے یو پکښ ذکردَ امداد دَ اللّٰه تعالیٰ دے دَ بنی اسرائیلوسره په رالیږلودَ اوو عذابونوپه فرعونیانوباندے اوپه اخرکښ دَ هغوی غرقول ﴿بِالسِّنِيْنَ﴾ عذاب دَ باندو اوصحرا والودے ﴿وَنَقْصٍ مِّنَ الثَّمَرٰتِ﴾ دا عذاب دَ بسارونووالودے اوثمرات دَ زمکے ټولوا مدنیاتو اوتجارتی منافعوته شامل دے۔

[۱۳۱] ﴿لَنَا هٰذِهٖ﴾ ځان به ئے دَ فراخئی اوخوشحالئی حقدارګنړلودَ اللّٰه تعالیٰ فضل او رحم ته ئے هیڅ دخل نه ورکوؤ ﴿يَطَّيَّرُوْا﴾ تطیرنه مراد دا دے چه هرکله مصیبتونه دَهرخوانه راشی نوخپل بد عمل ته نسبت نه کوی بلکه بل چا ته نسبت کوی وائی چه دا فلانے شخص یا فلانے کوریا سفروغیره سپیرهٔ وؤاوحدیث کښ راغلی دی چه لاطیرة فی الاسلام۔ دے ایت نه معلومه شوه چه همیشه باطل پرستونیکانوخلقوته سپیرهٔ وئیلی دی اودَ خپلے بدحالئی نسبت ئے هغوی ته کړے دے لکه په سورة یٰس(۱۸) کښ دی ﴿لَا يَعْلَمُوْنَ﴾ لیکن اکثرخلق دَ حوادثو مصیبتونو نسبت اسبابومحسوسوته کوی اودَ اللّٰه تعالیٰ نه غافل وی اودَهغه تقدیر هم نه منی۔

[۱۳۲] دا دَ دوی سخت ضد اوعناد وؤځکه چه هم ورته ایت وائی اوهم ورته دَ سحرنسبت کوی۔

عَلَيْهِمُ الطُّوفَانَ وَالْجَرَادَ وَالْقُمَّلَ وَالضَّفَادِعَ وَالدَّمَ اٰيٰتٍ مُّفَصَّلٰتٍ فَاسْتَكْبَرُوْا وَكَانُوْا قَوْمًا
مُّجْرِمِيْنَ ﴿١٣٣﴾ وَلَمَّا وَقَعَ عَلَيْهِمُ الرِّجْزُ قَالُوْا يٰمُوْسَى ادْعُ لَنَا رَبَّكَ بِمَا عَهِدَ عِنْدَكَ ۚ لَئِنْ
كَشَفْتَ عَنَّا الرِّجْزَ لَنُؤْمِنَنَّ لَكَ وَلَنُرْسِلَنَّ مَعَكَ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ﴿١٣٤﴾ فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُمُ الرِّجْزَ اِلٰٓى
اَجَلٍ هُمْ بٰلِغُوْهُ اِذَا هُمْ يَنْكُثُوْنَ ﴿١٣٥﴾ فَانْتَقَمْنَا مِنْهُمْ فَاَغْرَقْنٰهُمْ فِي الْيَمِّ بِاَنَّهُمْ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا

په دوی باندے طوفان اومولخان او سپرے اوچندخان اووینے نبنے وے جدا جدا پس دوی لوئی او کړه (دَ ایمان راوړلونه) او وو دوی قوم مجرمان (۱۳۳) اوهرکله چه رابه غے په دوی باندے یوعذاب (دَ دے عذابونونه) دوی به اُوئیل اے موسیٰ(علیه السلام) دُعا اوغواړه مونږ لره دَ رب خپل نه په سبب دَهغے چه لوظ ئے کړیدے ستا سره که چرے لرے کړو تا(په دُعا سره) ځمونږ نه داعذاب خامخا ایمان به راوړو په تاباندے او خامخا پرے به ږدو ستاسره بنی اسرائیل (۱۳٤) پس هرکله چه لرے به کړو مونږه دَ دوی نه عذاب تریو نیټے چه دوی به رسیدونکی وو هغے ته دغه وخت به دوی ماتوو لوظ لره(۱۳۵) پس بدل واغستو مونږ دَ دوی نه پس غرق کړل مونږ دوی په دریاب کښ په دے وجه چه دروغژن کړه دوی آیتونه ځمونږ

[۱۳۳] بعض مفسرینولیکلی دی چه موسیٰ علیه السلام دوی ته دعا دَشراوکړله نودا عذابونه په دوی باندے شروع شول ﴿فَاَرْسَلْنَا﴾ په دے کښ اشاره ده ډیر والی ته اومعلومه شوه چه دَ هغے دپاره اسمانی اسباب وؤ۔ طوفان نه مراد هرهغه شے دے چه عام هلاکت راولی که سخت بارانونه وی یا عامه وباء وی لکه دلته بعضِ مفسرینومرض دَ شری لیکلے دے نودا عذاب مالی اوبدنی دواړوته شامل دے ﴿وَالْجَرَادَ﴾ دا عذاب مالی دے ځکه ملخانودَ دوی ټول فصلونه اومیوے اوخوړلے او دا دَ قحط نښه وی اوملخان خوړل بغیرد ذبح نه جائزدی که هره نوعه وی هاں په حدیث ابوداؤد کښ راغلی دی چه نبی ﷺ نه خوړل ځکه چه طبعاً ئے بدکنړل لکه ضب (خادمئے دَ صحرا) ﴿وَالْقُمَّلَ﴾ دَ دے یوقسم هغه دی چه تیارے غلے اوخوری هغے ته سپکئی وئیلے شی دویم قسم هغه دی چه ویښتواوبدن کښ وی اوچیچل کوی دریم هغه دی چه په خاروؤ پورے اونخلی هغے ته کُنی وئیلے شی دا ټول قسمونه دلته مراد دی نوداهم مالی اوبدنی عذاب دے ﴿وَالضَّفَادِعَ﴾ دا هم دَ دوی په خوراك اوځښکاك کښ دا خلیدل اودَ دوی په سرونواوبدنونوباندے ورختل ﴿وَالدَّمَ﴾ داهم دَ دوی په خوراك اوځښکاك کښ ښکاره کیدل ﴿مُفَصَّلٰتٍ﴾ عذابونه جدا جدا وؤیو روایت کښ راغلی دی چه دَ هردوؤ عذابونوپه مینځ کښ اووه یا اته ورځے وقفه وه یا داچه دَ دے دلالت کول په ایت الله باندے ښه ښکاره او واضح وؤ۔

[۱۳٤] دا ایت دلیل دے په دے خبره چه فرعونیانوالله تعالیٰ منلواوپه مصیبت کښ دَ الله تعالیٰ نه دَ دُعا دَ غوښتنے قائل وؤ اوپه دے ایت کښ معلومه شوه چه دَموسیٰ علیه السلام دوه مقصده وؤ یومسئله دَتوحید اوبل ازادول دَ مؤحدینو ﴿بِمَا عَهِدَ عِنْدَكَ﴾ مراد دَ عهد نه نبوت دے یا مراد ترینه اجابت دَ دُعادے۔

[۱۳۵] دے ایت کښ دَ دوی ضد اوعناد ذکرشویدے ﴿اِلٰٓى اَجَلٍ﴾ مراد دَ دے نه هغه اووه یا اته ورځے دی چه الله تعالیٰ دَ هرعذاب دپاره مقررکړے وے او داسے په زخرف(۵۰) کښ هم دی۔

وَكَانُوْا عَنْهَا غٰفِلِيْنَ ﴿۱۳۶﴾ وَ اَوْرَثْنَا الْقَوْمَ الَّذِيْنَ كَانُوْا يُسْتَضْعَفُوْنَ مَشَارِقَ الْاَرْضِ وَ مَغَارِبَهَا
الَّتِيْ بٰرَكْنَا فِيْهَا ؕ وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ الْحُسْنٰى عَلٰى بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ۙ بِمَا صَبَرُوْا ؕ وَدَمَّرْنَا مَا كَانَ يَصْنَعُ
فِرْعَوْنُ وَ قَوْمُهٗ وَمَا كَانُوْا يَعْرِشُوْنَ ﴿۱۳۷﴾ وَجٰوَزْنَا بِبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ الْبَحْرَ فَاَتَوْا عَلٰى قَوْمٍ يَّعْكُفُوْنَ
عَلٰٓى اَصْنَامٍ لَّهُمْ ۚ قَالُوْا يٰمُوْسَى اجْعَلْ لَّنَآ اِلٰهًا كَمَا لَهُمْ اٰلِهَةٌ ؕ قَالَ اِنَّكُمْ قَوْمٌ تَجْهَلُوْنَ ﴿۱۳۸﴾ اِنَّ

او وو دوی دَهغے نه بے پرواه (۱۳۶) او ورکړه مونږ هغه قوم ته چه کمزورے کړے شوے وو (په مصر کښ) مشرقونه دَزمکے او مغربونه دَ زمکے هغه زمکه چه برکتونه اچولی دی مونږ په هغے کښ او پوره شوه وعده دَرب ستا خائسته دَ بنی اسرائیلو سره په دے وجه چه ټینګ شوی وو اوهلاك کړل مونږ هغه چه جوړول فرعون اوقوم دَ هغه او هغه باغونه چه دوی اچولی وو په سپرونو(۱۳۷) او پورے ویستل مونږ بنی اسرائیل دَ دریاب نه پس راغلل دوی په یو قوم باندے چه هغوی بندګی کوله دَ معبودانو خپلو اووے دوی اے موسیٰ(علیه السلام) جوړ کړه مونږ لره دَ بندګئ حقدار لکه څرنګه چه دوی لره معبودان دی او وے موسیٰ(علیه السلام) یقیناً تاسو قوم ناپوهه یئ (۱۳۸) یقیناً

[۱۳۶] په دے ایت کښ دَ دوی اخری عذاب دَ غرق ذکرشوے دے اودَ هغے ئیے دوه وجے ذکرکړی دی۔ ﴿فَانْتَقَمْنَا﴾ نقمت په اصل کښ زائل کول دَ نعمت دی په عذاب سره ﴿الْيَمِّ﴾ ډونګی دریاب یا غولئی دَ دریاب ته وئیلے شی او ازهری نه نقل دی چه یم بحر مالح اوبحرعذب دواړوته وئیلے شی لکه فاقذ فیه فی الیم کښ عذاب مراد وؤ اودلته بحرمالح (قلزم) مراد دے اوبحرصرف مالح ته وئیلے شی۔ اودوه وجے دَ عذاب تکذیب اوغفلت ئیے ذکرکړواګرچه دَ دوی نور هم ډیرګناهونه وؤ لیکن دا دواړه د ټولوګناهونوجړ وے۔

[۱۳۷] دَ دے زمکے نه مراد زمکه دَ شام ده چه په هغے کښ دُنیوی اواُخروی برکات ډیردی بنی اسرائیل اول دَشام دَ زمکے وارثان شول بیا دَ داؤد(علیه السلام) اوسلیمان(علیه السلام) په وخت کښ دَمصر وارثان هم شول۔ ﴿يُسْتَضْعَفُوْنَ﴾ مراد ترینه دَ دوی نه عبیدان جوړول اودَاولاد ذبح اواستحیاء اوسخت کارونه کول اوذلیل کول دی اوپه سورة قصص(٤،٥)کښ هم ذکردی﴿مَشَارِقَ﴾ او﴿مَغَارِبَ﴾ اشاره ده ټولوطرفونوته اوهرکله چه دَ هرے علاقے مشرق اومغرب جدا جدا وی دَ دے وجے نه جمع ئیے ذکرکړل۔ ﴿الْاَرْضِ﴾ مراد دَ دے نه هغه علاقه ده چه دَ فرات نه تربحرسرف (قلزم) پورے ده دا بقاعی ذکرکړی دی په سورة مائده کښ اودا زمکه په سورة انبیاء (۷۱،۸۱) اوسورة اسراء (۱) کښ ذکر ده۔

[۱۳۸] دا څلورم مقام دے تر(٤١) پورے په دے کښ بیان دَکمزوری والی دَ عقیدے دَ بنی اسرائیلودے اوپوهه کول دَ موسیٰ(علیه السلام) هغوی لره اشاره ده چه په بنی اسرائیلو کښ په وخت دَ وجود دَ نبی دَ هغوی کښ کمزوری دینی شروع شویده ﴿وَجَاوَزْنَا﴾ دا مجاوزه (بچ کول) په ورځ دَ عاشورا وه د دے وجے نه هغوی دغه ورځ روژه نیوله اوپه دے اُمت کښ دغه روژه نیول سنت دی﴿عَلٰى قَوْمٍ﴾ دا قوم دَ لخم قبیلے وؤاوشکلونه ئیے دَغواؤ جوړ کړی وؤ اودَ هغے عبادت ئیے کوؤبعضونا پوهو بنی اسرائیلودا مطالبه کړے وه دَ وجے دَ زوړعادت نه اودَ وجے دَ نوی ایمان راوړلونه۔ اودَغسے وینا په غزوهٔ دَحنین کښ بعضِ نوی

هٰٓؤُلَآءِ مُتَبَّرٌ مَّا هُمْ فِيْهِ وَبٰطِلٌ مَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۳۹﴾ قَالَ اَغَيْرَ اللّٰهِ اَبْغِيْكُمْ اِلٰهًا وَّهُوَ
فَضَّلَكُمْ عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۴۰﴾ وَاِذْ اَنْجَيْنٰكُمْ مِّنْ اٰلِ فِرْعَوْنَ يَسُوْمُوْنَكُمْ سُوْٓءَ الْعَذَابِ ۚ يُقَتِّلُوْنَ
اَبْنَآءَكُمْ وَيَسْتَحْيُوْنَ نِسَآءَكُمْ ۭ وَفِيْ ذٰلِكُمْ بَلَاۗءٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ عَظِيْمٌ ﴿۱۴۱﴾ ع وَوٰعَدْنَا مُوْسٰى ثَلٰثِيْنَ
لَيْلَةً وَّاَتْمَمْنٰهَا بِعَشْرٍ فَتَمَّ مِيْقَاتُ رَبِّهٖٓ اَرْبَعِيْنَ لَيْلَةً ۚ وَقَالَ مُوْسٰى لِاَخِيْهِ هٰرُوْنَ اخْلُفْنِيْ فِيْ
قَوْمِيْ وَاَصْلِحْ وَلَا تَتَّبِعْ سَبِيْلَ الْمُفْسِدِيْنَ ﴿۱۴۲﴾ وَلَمَّا جَاۗءَ مُوْسٰى لِمِيْقَاتِنَا وَكَلَّمَهٗ رَبُّهٗ ۙ قَالَ

داخلق هلاك به كړيشي دى هغه چه دوى مشغول دى دَهغے په بندګئ كښ اوباطل دى هغه عملونه چه دوى ئے كوى(۱۳۹) او وے موسىٰ(عليه السلام) آياسيوا دَ اللّٰه تعالىٰ نه طلب كړم تاسولره بل معبود اوهغه غوره والے دركړے تاسو لره په خلقو دَ دے زمانے(۱۴۰) اوكله چه بچ كړئ مونږ تاسو دَفرعونيانونه چه رَسول ئے تاسوته بدعذابونه وژل ئے ځامن ستاسو اوبے حيائے پريخودلے زنانه ستاسو اوپه ديكښ نعمت (امتحان) وو دَطرف دَرب ستاسونه لوئے (۱۴۱)او وعده اوكړه مونږ دَ موسىٰ(عليه السلام) سره دَ ديرشو شپو او پوره كړے وه مونږ هغه په لسو نورو سره پس پوره شو وخت مقرر دَرب دَطرف نه څلويښت شپے او اووے موسىٰ(عليه السلام) رور خپل ته هارون چه نائب شه ځما نه په قوم ځما كښ او اصلاح كوه دَ دوى اومه ځه په لار دَفساد كوونكو (۱۴۲) اوهركله چه راغے موسىٰ(عليه السلام) دپاره دَنيټے مقرر ځمونږ اوخبرے اوكړے دهٗ سره رب دَ دهٗ، دهٗ اووے!

مسلمانانوهم كړے وه چه مونږلره يوه ونه مقرركړه چه په هغے پورے اسلحے زوړنده وؤ دپاره دَ بركت لكه څرنګ چه دے مشركانو لره داسے ونه ده اوهغے ونے ته ذات انواط وئيلے كيدونو رسول اللّٰه ﷺ هغوى ته زورنه اوكړه چه تاسوهم دَ بنى اسرائيلوپشان ويناكوئے ﴿يَعْكُفُوْنَ﴾ عكوف وئيلے كيږى لازم نيول دَيوځيزاوتوجه كول هغه ته په طريقه دَ تعظيم سره۔

[۱۳۹] دَ اولے جملے مطلب دا دے چه دا معبودان فناه كيدونكى دى په لاسونودَ مؤحدينواودَ طرف دَ اللّٰه تعالىٰ نه هم په بلے طريقے سره دَ دوى عبادت نه دے جائز۔ دَ دويمے جملے مطلب دا دے چه دَ دوى دا شركى عملونه بے فائدے دى نه نفع وركولے شى اونه ضررد َفع كولے شى۔

[۱۴۰] دا زورنه ده قوم ته دَ موسىٰ(عليه السلام) اول ئے ذكركړه چه دا معبودان اهل دَ عبادت نه دى اوس ذكركوى چه اللّٰه تعالىٰ حقدارد َ بندګئ دے په توحيد سره ځكه چه دا سبب دَ فضيلت دے اوطريقه دَ فضيلت ذكرده په سورة مائده (۲۰) كښ۔

[۱۴۱] دے ايت كښ بيان دَ سبب دَ فضيلت دَ بنى اسرائيلودے اوتذكيرد َ نعمت دَ اللّٰه تعالىٰ دے اوداسے ايت په سورة بقره (۴۹) او ابراهيم (۶) كښ هم ذكر دے۔

[۱۴۲] دَ دے ځائے نه پنځم مقام دے تر(۱۵۴) پورے په دے كښ ذكرد َ اول ميقات دے دپاره دَكتاب وركولواواستخلاف دَ هارون(عليه السلام) دے اوبيان دَ طلب دَ روئيت (ليدل) دى دَ موسىٰ(عليه السلام) اللّٰه تعالىٰ لره اوبيا شرك دَ بنى اسرائيلوپه عبادت دَ سخى سره اوغصه دَ موسىٰ(عليه السلام) په هغے۔ دا څلويښت شپے مياشت دَ

رَبِّ اَرِنِيْٓ اَنْظُرْ اِلَيْكَ ۭ قَالَ لَنْ تَرٰىنِيْ وَلٰكِنِ انْظُرْ اِلَى الْجَبَلِ فَاِنِ اسْتَقَرَّ مَكَانَهٗ فَسَوْفَ تَرٰىنِيْ ۚ فَلَمَّا تَجَلّٰى رَبُّهٗ لِلْجَبَلِ جَعَلَهٗ دَكًّا وَّخَرَّ مُوْسٰى صَعِقًا ۚ فَلَمَّآ اَفَاقَ قَالَ سُبْحٰنَكَ تُبْتُ اِلَيْكَ وَاَنَا اَوَّلُ الْمُؤْمِنِيْنَ ۝ قَالَ يٰمُوْسٰٓى اِنِّي اصْطَفَيْتُكَ عَلَى النَّاسِ بِرِسٰلٰتِيْ وَبِكَلَامِيْ ۡ فَخُذْ مَآ اٰتَيْتُكَ وَكُنْ مِّنَ الشّٰكِرِيْنَ ۝ وَكَتَبْنَا لَهٗ فِي الْاَلْوَاحِ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ مَّوْعِظَةً وَّتَفْصِيْلًا لِّكُلِّ

اے ربه ځما اوښایه ماته ځان خپل چه ځه اوګورم تاته اوفرمائیل الله تعالی هیڅرے ته نه شے لیدے ما لیکن اوګوره غرته که ټینګ شودے په ځائے خپل پس زرده چه اوبه وینے ته ماء پس هرکله چه نُور ښکاره کړو رب دَ هغه غرته اوګرځوو ئے هغه هموار دَ زمکے سره اوپریوت موسیٰ(علیه السلام) بے هوشه پس چه په هوش شونو اووے پاکی ده تاله توبه کړیده ماتاته اوځه اول یم دَمؤمنانونه (په دے وخت کښ)

(۱۴۳)اوفرمائیل الله تعالی اے موسیٰ(علیه السلام) یقیناً ماغوره کړے ئے ته په خلقو باندے په پیغامونو ځما اوپه خبرو ځما پس اونیسه هغه کتاب چه درکړو ماتاته اوشهٔ دَشکر کوونکونه (په بیانولو دَ دے کتاب)

(۱۴۴) اولیکلے دے مونږ هغه لره په تختو کښ دَ هرقسم ضروری وعظ او تفصیل دَ هر ضروری

ذوالقعده اولس ورځے دَ ذالحجه وے اوروایاتو کښ راغلی دی چه دَمیاشت نه روستوموسیٰ(علیه السلام) مسواك مستعمل کړونوالله تعالیٰ ورته لس ورځے نورے زیاتی کړے دَ دے وجے نه ﴿بِعَشْرٍ﴾ ئے جدا ذکرکړواوپه دے لسو کښ ورته تورات ملاؤشو۔ سوال: ﴿فَتَمَّ مِيْقَاتُ رَبِّهٖٓ﴾ دے ته ځه ضرورت وؤ؟ جواب: مراد په دے کښ دفع دَ وهم ده یعنی څوك دا وهم اونکړی چه عشردَ ثلثین نه جزء دے بلکه روستودے دَ ثلثین نه۔ فرق په مینځ دَ میقات او وقت کښ دا دے چه وقت مطلق وخت ته وئیلے شی۔ اومیقات هغه وخت دے چه دَ ځه کار دپاره مقررکړے شی۔

[۱۴۳] دَکلام دَ اوریدلونه شوق دَ دیدن پیدا شواودا سوال دَ موسیٰ(علیه السلام) دَ وجے دَ محبت نه دے اوسوال دَ بنی اسرائیلو (ارنا الله جهرة) دَ بے ادبئی اودَ انکاردَ وجے نه وؤځکه هغه سبب دَ عذاب شو۔ اوحق مسلك دا دے چه لیدل دَ الله تعالیٰ په دُنیا کښ ممکن دی لیکن واقع نه دی۔ اودَ بعض علماؤپه نیزپه دُنیاکښ ممتنع دی۔ دَ امکان دپاره دَ لیلونه دا دی (۱) موسیٰ(علیه السلام) دَ دے طلب کړے دے اوانبیاء علیهم السلام ممتنع نه طلب کوی ځکه چه طلب دَ ممتنع جهل دے اوانبیاء دَ جهل نه پاك دی (۲) لن ترانی ئے وئیلے دے لن اُرىٰ ئے نه دے وئیلے۔ سوال: موسیٰ(علیه السلام) تُبتُ وئیلے دے؟۔ جواب: دا توبه دَ تواضع اودَ عبدیت دَ وجے نه ده دَګناه دَ وجے نه نه ده بالاجماع هاں توبه ده دَ دے وجے نه چه بے اجازته ئے دا دُعاکړے ده۔ اولیدل دَ الله تعالیٰ په اخرت کښ دپاره دَجنت والویقینی دی دَ دے تفصیل په سورة قیامه (۲۲)اوسورة تطفیف (۱۵) کښ شته دے ﴿فَاِنِ اسْتَقَرَّ مَكَانَهٗ﴾ دایومثال دے چه دَغرظاهری قوت ډیر زیات دے نوچه هغه دَ الله تعالیٰ دَ تجلئ طاقت نه لرلونو کمزورے وجود دَ انسان به څنګه طاقت اولری اواجماع ده دَ اُمت چه دا توبه دَموسیٰ(علیه السلام) دَګناه نه نه وه ځکه چه هغه ګناه نه ده کړے اوحدیث صحیح کښ راغلی دی چه الله تعالیٰ په تجلی کښ صرف طرف دَ ګوتے (کچه ګوته) ښکاره کړے وؤ۔

[۱۴۴] دا تسلّی ده دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه موسیٰ(علیه السلام) ته چه که دیدن منع کړوستانه لیکن نوراحسانات

شَیْءٍ ۚ فَخُذْهَا بِقُوَّةٍ وَّاْمُرْ قَوْمَكَ یَاْخُذُوْا بِاَحْسَنِهَا ؕ سَاُوْرِیْكُمْ دَارَ الْفٰسِقِیْنَ ﴿۱۴۵﴾ سَاَصْرِفُ عَنْ اٰیٰتِیَ
الَّذِیْنَ یَتَكَبَّرُوْنَ فِی الْاَرْضِ بِغَیْرِ الْحَقِّ ؕ وَاِنْ یَّرَوْا كُلَّ اٰیَةٍ لَّا یُؤْمِنُوْا بِهَا ۚ وَاِنْ یَّرَوْا سَبِیْلَ الرُّشْدِ
لَا یَتَّخِذُوْهُ سَبِیْلًا ۚ وَاِنْ یَّرَوْا سَبِیْلَ الْغَیِّ یَتَّخِذُوْهُ سَبِیْلًا ؕ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ كَذَّبُوْا بِاٰیٰتِنَا وَ كَانُوْا
عَنْهَا غٰفِلِیْنَ ﴿۱۴۶﴾ وَالَّذِیْنَ كَذَّبُوْا بِاٰیٰتِنَا وَلِقَآءِ الْاٰخِرَةِ حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ ؕ هَلْ یُجْزَوْنَ اِلَّا مَا
كَانُوْا یَعْمَلُوْنَ ﴿۱۴۷﴾ ع وَاتَّخَذَ قَوْمُ مُوْسٰی مِنْۢ بَعْدِهٖ مِنْ حُلِیِّهِمْ عِجْلًا جَسَدًا لَّهٗ خُوَارٌ ؕ اَلَمْ یَرَوْا

حکمونو پس اونیسه داپه کوشش سره اوحکم کوه قوم خپل ته چه عمل کوی په خائسته خبرو دَ دے زردے چه اوبه ښائیم تاته ملك دَ نافرمانو خلقو(۱٤٥) خامخا منع کوم دَ پوهے دَ آیتونو خپلونه هغه کسان چه لوئی کوی په زمکه کښ په ناحقه سره اوکه او وینی دوی هره نخه دَ حق ایمان نه راوړی دوی په هغے باندے اوکه او وینی دوی لار دَ هدایت نه نیسی هغے لره لار اوکه وینی دوی لار دَ گمراهئ نو نیسی هغه لار داپه دے وجه چه دوی دروغژن گنړی آیتونه ځمونږ او دوی دَهغے نه بے پرواه دی (۱٤٦) اوهغه کسان چه دروغژن گنړی آیتونه ځمونږ اوملاقات دَآخرت برباد دی عملونه دَ دوی بدله نشی ورکیدے دوی ته مگر دهغه عملونوچه دوی ئے کوی (۱٤۷) اوجوړ کړو قوم دَ موسیٰ(علیه السلام) پس دَتلو دَهغه نه دَگالو دَ دوی نه سخے یوه جوسه وه چه هغے له آواز وو آیا دوی سوچ نه کؤو

مے په تاکړیدی۔ ﴿النَّاسِ﴾ نه مراد امتیان دی اودَ شکرنه مراد بیا نول دَکتاب دَ اللّٰه تعالیٰ دی او رازی وئیلی دی چه داتسلی هم دلالت کوی په امکان دَ رویت باندے۔

[۱٤٥] تورات په تختو کښ نازل شوے وؤ لیکن دَ هغے تختوشماراوجنس په صحیح روایاتو کښ نه دے معلومه په هغے کښ بحث کول عبث کار دے ﴿مَوْعِظَةً﴾ دَ دے نه مراد زجرونه اوتخویفات وغیره دی۔ ﴿وَتَفْصِیْلًا﴾ دَ دے نه مراد احکام دَ تورات دی ﴿دَارَ الْفٰسِقِیْنَ﴾ دَ دے نه مراد یا خوزمکه دَ شام ده چه په هغے کښ جبابره اوسیدل یا ملك دَ مصردے یا دَ دے نه مراد جهنم دے په ورځ دَ قیامت په ورستنئے توجیه سره خطاب دے مخالفت کوونکودَکتاب اللّٰه ته اوپه دے معنیٰ سره دا تخویف دے اومخکنئے معنیٰ سره دا بشارت دے۔

[۱٤٦] مخکښ ایت کښ ترغیب ذکرشودپاره دَ عمل په تورات باندے نوپه دے ایت کښ زورنه ده دپاره دَهغه چاچه هغوی دَ اللّٰه تعالیٰ دَکتاب نه مخ اړوونکی دی دَ وجے دَ ضد اوعناد نه او روستوجملے دلالت کوی دَ دوی په عنادکولوباندے دا ایت دلیل دے په دے خبره چه دَ چا په زړه کښ څه تکبر وی نوهغه دَ پوهے دَکتاب اللّٰه نه محرومه وی اوعلماؤ هغه نه صفات ذکرکړیدی چه هغه منع کوونکی دی دَپوهے دَقرآن نه چه هغه په اتقان ج۲ ص۲۳۲ دَسیوطی اوالبرهان ج۲ ص۱۸۰ دَ زرکشی کښ ذکردی۔

[۱٤۷]دے ایت کښ یره اُخروی ده دپاره دَ منکرینو ﴿وَلِقَآءِ الْاٰخِرَةِ﴾ کښ اشاره ده چه دَ دوی نه امید دَ توبے کولو نیشته ځکه چه اخرت نه منی نومراد دا دے چه سره دَ تکذیب نه مړشی بغیرد توبے کولونه۔ ﴿اَعْمَالُهُمْ﴾ مراد دَ دینه نیك عملونه دَ هغوی دی لکه صله رحمی اوصدقه کول اوښه اخلاق دَ هغوی۔

اَنَّهٗ لَا يُكَلِّمُهُمْ وَلَا يَهْدِيْهِمْ سَبِيْلًا ۘ اِتَّخَذُوْهُ وَكَانُوْا ظٰلِمِيْنَ ﴿۱۴۸﴾ وَلَمَّا سُقِطَ فِيْٓ اَيْدِيْهِمْ وَرَاَوْا
اَنَّهُمْ قَدْ ضَلُّوْا ۙ قَالُوْا لَئِنْ لَّمْ يَرْحَمْنَا رَبُّنَا وَيَغْفِرْ لَنَا لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿۱۴۹﴾ وَلَمَّا رَجَعَ
مُوْسٰٓى اِلٰى قَوْمِهٖ غَضْبَانَ اَسِفًا ۙ قَالَ بِئْسَمَا خَلَفْتُمُوْنِيْ مِنْۢ بَعْدِيْ ۚ اَعَجِلْتُمْ اَمْرَ رَبِّكُمْ ۚ وَاَلْقَى
الْاَلْوَاحَ وَاَخَذَ بِرَاْسِ اَخِيْهِ يَجُرُّهٗٓ اِلَيْهِ ۭ قَالَ ابْنَ اُمَّ اِنَّ الْقَوْمَ اسْتَضْعَفُوْنِيْ وَكَادُوْا يَقْتُلُوْنَنِيْ ۡ
فَلَا تُشْمِتْ بِيَ الْاَعْدَاۗءَ وَلَا تَجْعَلْنِيْ مَعَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۵۰﴾ قَالَ رَبِّ اغْفِرْ لِيْ وَلِاَخِيْ وَاَدْخِلْنَا

چه داسے خبرے نشی کولے دوی سره اونه خودلے شی دوی ته څه لار ډَفائدے او نیوو دوی هغه لره په خدایئ سره او وو دوی ظلم کڅونکی په شرك سره (۱۴۸) اوهرکله چه اوغورځولے شو ډَ دوی په مخکښ او دوی پوهه شوچه یقیناً ګمراه شوی دی دوی نو اووے دوی که رحم اونه کړو په مونږه باندے رب ځمونږه اوبخنه ئے اونکړه مونږ ته نو خامخا به شو مونږه ډَتاوان والونه(۱۴۹) اوهرکله چه واپس شو موسیٰ(علیه السلام)خپل قوم ته غصه وو او غمژن وو نو اووئیل ئیے بد دے هغه کارچه کړے دے تاسو ځمانه روستو آیاتلوار اوکړو تاسو ډَوعدے ډَرب ستاسونه اوکیځودلے ئیے تختئے او اونیو لوئیے سر ډَ رور خپل رابښکلوئے ځان ته اووے هارون(علیه السلام) اے ځویه ډَمور یقیناً دے قوم کمزورے ګنړلے وومه څه او نزدے وه چه څه ئے وژلے وے پس مه خوشحالوه زما په وجه دُشمنان اومه ګنړه ماسره ډَقوم ظالمانونه (۱۵۰) اووے موسیٰ(علیه السلام) اے ربه ځما بخنه اوکړه ماته او رور ځماته او داخل کړه مونږه

[۱۴۸] دا بله واقعه ده په وخت ډَ سفرکولوډَ موسیٰ علیه السلام کښ میقات اول ته اوډَ دے تفصیل په سورة طٰهٰ ۸۵ کښ شته دا ایت دلیل دے په دے خبره چه هغه سخے ډَسامری صرف جوسه وه او اوازډَ سخی ترینه وتلوډَ هغے نه غوښه او وینه نه وه جوړه شوے اودا قول غوره دے اوپه دے ایت کښ ډَمعبود حق دوه صفات ذکردی اول داچه هغه له به صفت ډَکلام وی ﴿خُوَارٌ﴾ دا اګرچه مستعار وؤ لیکن روستوډَ هلاکت ډَ فرعونیانونه هغه میراث اوملکیت ډَبنی اسرائیلواو ګرځیدلولکه په سورة دخان(۲۵،۲۸) کښ دی﴿لَا يُكَلِّمُهُمْ﴾ دا صریح دلیل دے چه الله تعالیٰ لره صفت ډَکلام شته دے ځکه چه دا وصف ډَ معبودیت دے۔

[۱۴۹] ډَ دے یومطلب دا دے چه موسیٰ علیه السلام هغه سخے اوسیزلواوایرے ډَ هغے ئیے دریاب ته اوغورځولے لکه په سورة طٰهٰ (۹۸) کښ دی۔ دویم مطلب دا دے چه هرکله دوی بښیمانه شوپه عبادت ډَ سخی ځکه چه غورځیدل کِنایه ده ډَ بښیمانه کیدلونه اوسبب ډَ بښیمانئی روستو ایت کښ ذکردے ﴿قَالُوْا﴾ دا ذکرډَ توبے ډَ بنی اسرائیلودے ډَ عبادت ډَ سخی نه اودا سبب ډَ عفودے چه په سورة بقره(۵۲) کښ ذکردے۔ ﴿يَرْحَمْنَا﴾ دلته رحم په معنیٰ ډَ اجابت ډَتوبه دے اوهغه مقدم دے په مغفرت باندے۔اوهرکله چه رحم په معنیٰ ډَ بچ کولووی ډَګناه نه نوبیا مغفرت مقدم کیږی په رحم باندے لکه په دُعا ډَ آدم علیه السلام سورة اعراف(۲۳) کښ۔ اونورځایونه هم داسے ډیرذکر دی۔

[۱۵۰] ډَکتاب ورکولونه روستو الله تعالیٰ دهٗ ته خبر ورکړوپه باره ډَ شرك ډَ قوم ډَ هغه کښ ډَ دے وجے نه هغه غصه او واپس شو۔اواصل ترتیب ډَواقعے سورة طٰهٰ کښ ذکردے۔ چه اول خطاب ئیے ډَقوم

فِيْ رَحْمَتِكَ ؕ وَاَنْتَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِيْنَ ﴿۱۵۱﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ اتَّخَذُوا الْعِجْلَ سَيَنَالُهُمْ غَضَبٌ مِّنْ رَّبِّهِمْ وَذِلَّةٌ
فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ؕ وَكَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُفْتَرِيْنَ ﴿۱۵۲﴾ وَالَّذِيْنَ عَمِلُوا السَّيِّاٰتِ ثُمَّ تَابُوْا مِنْۢ بَعْدِهَا وَاٰمَنُوْٓا

په خاص رحمت خپل کښ اوته ئے زیات مهربان ډمهربانونه (۱۵۱) یقیناً هغه کسان چه نیولے دے سخے په خدایئ سره زردے چه اوبه رسی دویته غضب ډطرف ډرب ډ دوینه او ذلت په ژوند ډُنیوی کښ اودغسے سزاورکؤو دروغ جوړونکوته (۱۵۲) اوهغه کسان چه عملونه کوی ناکاره بیا توبه اوباسی پس ډ دے عملونونه او ایمان ئے راوړو

سره اوکړوبیا ډهارون علیه السلام سره بیا ډسامری سره۔ اودے سورت کښ ترتیب مقصود نه دے ﴿خَلَفْتُمُوْنِيْ﴾ خطاب دے عبادت کوونکوډ سخی ته یعنی شرك ډ توحید په ځائے کیښودل دا ناکاره خلافت دے یا خطاب دے هارون علیه السلام اونورومشرانوته چه تاسو زما صحیح خلافت نه دے کړے ځکه چه تاسوډ شرك نه منع نه ده کړے ﴿اَعَجِلْتُمْ اَمْرَ رَبِّكُمْ﴾ تلوارنه مراد بدلول اوامرنه مراد دین ډ توحید دے یا امرنه مراد وعده ډځلویښتو ورځوده اوداسے په سورة طٰهٰ (۸۶) کښ ذکردی ﴿وَاَلْقَى الْاَلْوَاحَ﴾ مراد ډ دے نه کیښودل دی په حالت ډغصه کښ غورځول په بے ادبئی سره نه دی مراد ځکه چه دا ډ نبی ډ شان سره نه ښائیی او دارنګ صحیح دلیل نیشته پدے خبره چه ځه تختے ډ هغے ماتے شویدی ﴿وَاَخَذَ بِرَاْسِ اَخِيْهِ﴾ دانیول ډ وجے ډ غصے نه دی ډ خپل ګمان ډ وجے نه نه دپاره ډ ذلیل کولواوسورة طٰهٰ کښ ذکرشویدی چه سر اوګیره دواړه وؤلیکن په هغے کښ تصریح نیشته په نیولوډګیرے باندے صرف لا تأخذ ذکردے اوهغه صریح نه دے۔ ﴿ابْنَ اُمَّ﴾ هارون علیه السلام ډ موسیٰ علیه السلام ځکه رور وؤموراوپلارئیے شریك وؤلیکن ذکرډ مورئیے صرف ډ رحم ډ وجے نه کړیدے ﴿وَكَادُوْا يَقْتُلُوْنَنِيْ﴾ دا دلیل دے په دے خبره چه هارون علیه السلام دوی ته مسئله ډ توحید بنه په وضاحت سره بیان کړے وه ځکه دوی ډ هغه قتل ته تیارشول ﴿تُشْمِتْ﴾ شمائة خوشحالی بنکاره کول په بدحالئی ډ دُشمن باندے اشاره ده چه اختلاف ډمؤحدینوپه کورنئی کښ سبب ډځوشحالئی ډمشرکینودے ډ دے وجے نه حرام دے۔

[۱۵۱] دا دُعا ډ دے وجے نه ده که ډ موسیٰ علیه السلام نه په حالت ډ غصه کښ ځه قصور شوے وی اوډ هارون علیه السلام نه په بارهٔ ډ اصلاح ډ قوم کښ ځه کوتاهی شوے وی نوهغه معاف کړے دا مستلزم نه دے چه دوی دِ ګناه کړے وی۔

[۱۵۲] دے ایت کښ زورنه ده هغه بنی اسرائیلوته چه ډ عبادت ډ سخی نه ئے توبه نه وه کړے لکه سامری اودهغه ملګری اوهغه اولاد ډ بنی اسرائیلوچه پدے عمل باندے راضی وی ﴿وَكَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُفْتَرِيْنَ﴾ امام مالك رحمه الله نه روایت دے چه مفترین نه مراد مبتدعین دی اوهربدعتی ډ هغه په سرباندے ذلت وی اوابن کثیرنقل کړے دے ډ حسن بصری نه چه ذلت ډ بدعت به ډ دوی په اوږو باندے وی اګرچه په خچراوترکی اسونوباندے دوی سواره وی۔

اِنَّ رَبَّكَ مِنْۢ بَعْدِهَا لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١٥٣﴾ وَلَمَّا سَكَتَ عَنْ مُّوْسَى الْغَضَبُ اَخَذَ الْاَلْوَاحَ ۖ وَفِيْ نُسْخَتِهَا
هُدًى وَّ رَحْمَةٌ لِّلَّذِيْنَ هُمْ لِرَبِّهِمْ يَرْهَبُوْنَ ﴿١٥٤﴾ وَاخْتَارَ مُوْسٰى قَوْمَهٗ سَبْعِيْنَ رَجُلًا لِّمِيْقَاتِنَا ۚ
فَلَمَّاۤ اَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ قَالَ رَبِّ لَوْ شِئْتَ اَهْلَكْتَهُمْ مِّنْ قَبْلُ وَاِيَّايَ ؕ اَتُهْلِكُنَا بِمَا فَعَلَ
السُّفَهَآءُ مِنَّا ۚ اِنْ هِيَ اِلَّا فِتْنَتُكَ ؕ تُضِلُّ بِهَا مَنْ تَشَآءُ وَتَهْدِيْ مَنْ تَشَآءُ ؕ اَنْتَ وَلِيُّنَا فَاغْفِرْ
لَنَا وَارْحَمْنَا وَاَنْتَ خَيْرُ الْغٰفِرِيْنَ ﴿١٥٥﴾ وَاكْتُبْ لَنَا فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّفِي الْاٰخِرَةِ اِنَّا هُدْنَاۤ

یقیناً رب ستاپس دَ دے توبے نه خامخا بخونکے اورحم کوونکے دے (۱۵۳) اوهرکله چه په آرام شوه دَ موسیٰ(علیه السلام) نه غصه راواغستے ئے تختے اوپه لیکلے شوی دَهغے کښ هدایت وو او رحمت وو هغه خلقو لره چه هغوی خاص دَرب خپل نه ویره کوی (۱۵٤) اوغوره کړل موسیٰ(علیه السلام) دَ خپل قوم نه اویا سړی دپاره دَوخت مقرر ځمونږ پس هرکله چه اونیول دوی لره زلزلے اووے موسیٰ(علیه السلام) اے ربه ځما که تاغوښتے وے نوهلاك کړے به وے تادوی مخکښ دَ دے نه اومالره آیا هلاکوے ته مونږ لره په هغه کارچه کړیدے کم عقلو ځمونږ نه نه دے دامګر امتحان ستادے ګمراه کوے ته په دے سره چالره چه اوغواړے او هدایت کوے چالره چه اوغواړے ته مددګار ځمونږه ئے پس بخنه اوکړه مونږ ته اورحم اوکړے په مونږه باندے اوته غوره دَبخونکونه ئے(۱۵۵) اوتوفیق راکړه مونږ لره په دے دُنیاکښ دَ نیکو کارونو اوپه آخرت کښ(خائسته بدله) یقیناً مونږه توبه کړیده

[۱۵۳] دا ایت ترغیب دے توبے ته پس دَ شرك نه۔ اوپدیکښ اشاره ده قرب دَ توبے ته یعنی مخکښ دَ مرګ نه۔

[۱۵٤] دا ایت دلیل دے په دے خبره چه موسیٰ علیه السلام کوم الواح ایخی وؤنوهغه ټولے ئے را واخستے نومعلومه شوه چه دَ هغے نه هیڅ نه وؤمات شوی ځکه چه اکثره قاعده داده چه معرفه معاد شی معرفه ته نودویم بعینه اول وی نوکومے الواح چه کیخودلے وے بعینه هغه ئے را واخستلے۔ سکوت، سکون اوزوال ته وئیلے شی نوصفت دَ غضب دپاره کیدیشی اوسکت په معنیٰ دَ ترك کلام سره راځی هغه دلته مراد نه دے۔ ﴿يَرْهَبُوْنَ﴾ اشاره ده چه رهبت سبب دے دپاره دَ فائدے اخستلودَکتاب اللّٰه نه ﴿نُسْخَتِهَا﴾ کښ اشاره ده چه موسیٰ علیه السلام لره لیکلے شوے کتاب (تختے) ورکړے شوے وؤ۔

[۱۵۵] دَ دے ایت نه شپږم مقام دے تر(۱٦۸) پورے په دے کښ ذکرَ دویم میقات دے اونزول دَ عذاب دے او دُعا دَ موسیٰ علیه السلام ده اوبیا صفات دَ اخری نبی دی اوذکرَ رسالت دَ هغه دے بیا تذکیرے په نعمتونو اوپه عذابونو سره۔ دَ دے زلزلے دَ راتلو سبب سورۃ بقره(۵۵) کښ تیرشویدے۔ تندرپه دوی باندے دَ برے طرف نه راغے زلزله دَ لاندے نه یا مراد دَ رجفے نه فیل کیدل دَ زړونودی دَ وجے دَ تندرنه ﴿قَوْمَهٗ﴾ مِنْ دلته پټ دے یا دا چه سبعین عطف بیان یا بدل دے دَ قومه نه بیا تقدیرَ مِنْ ته حاجت نیشته ﴿لِمِيْقَاتِنَا﴾ دا میقات دویم دے دپاره دَ تعلیم دَ طریقے دَ توبے دَ عبادت دَ سخی نه ﴿لَوْشِئْتَ اَهْلَكْتَهُمْ﴾ مقصد دا دے چه دَ دے وخت نه مخکښ هم تا دوی دَ هلاکت نه بچ ساتلی دی نو اوس هم دوی بچ کړے دَ هلاکت دائمه نه یعنی دوی ژوندی کړے نودا سفارش دے دپاره دَ ژوندی کولودَ هغوی ﴿بِمَا فَعَلَ السُّفَهَآءُ﴾ دا اجتهاد دَ

إِلَيْكَ ؕ قَالَ عَذَابِيْٓ أُصِيْبُ بِهٖ مَنْ أَشَآءُ ۚ وَرَحْمَتِيْ وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ ؕ فَسَأَكْتُبُهَا لِلَّذِيْنَ
يَتَّقُوْنَ وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَالَّذِيْنَ هُمْ بِاٰيٰتِنَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿١٥٦﴾ اَلَّذِيْنَ يَتَّبِعُوْنَ الرَّسُوْلَ النَّبِيَّ
الْأُمِّيَّ الَّذِيْ يَجِدُوْنَهٗ مَكْتُوْبًا عِنْدَهُمْ فِي التَّوْرٰىةِ وَالْإِنْجِيْلِ ۡ يَأْمُرُهُمْ بِالْمَعْرُوْفِ وَيَنْهٰهُمْ
عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبٰتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبٰٓئِثَ وَيَضَعُ عَنْهُمْ إِصْرَهُمْ وَالْأَغْلٰلَ الَّتِيْ كَانَتْ
عَلَيْهِمْ ؕ فَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِهٖ وَعَزَّرُوْهُ وَنَصَرُوْهُ وَاتَّبَعُوا النُّوْرَ الَّذِيْٓ أُنْزِلَ مَعَهٗٓ ۙ أُولٰٓئِكَ هُمُ

تاته اوفرمائيل الله تعالى عذاب ځما رسوم هغه چاته چه اوغواړم او رحمت ځما رسيدلے دے هرشه ته پس خامخا به خاص کوم دارحمت هغه چاله چه ځان ساتی دَشرك نه او ورکوی زکوٰة اوهغه کسان چه هغوی په آيتونو ځمونږ ايمان راوړی(١٥٦) داهغه کسان دی تابعداری کوی دَرسول نبی امی هغه چه مومی دوی ذکر دَهغه ليکلے شوے دَ دوی سره په تورات او انجيل کښ حکم کوی دوی ته په هره نيکئ اومنع کوی دوی لره دَهرے بدئے نه اوحلالوی دَ دوی دپاره پاك ځيزونه(په بيان کولوسره) اوحراموی په دوی باندے ګنده ځيزونه(په بيان کولوسره) اولرے کوی دَ دوی نه درانه حکمونه دَ دوی اوهغه سختے سزاګانے چه وے په دوی باندے پس هغه کسان چه ايمان ئے راوړے په دے پيغمبر اوملګر تيا ئے کړيده دَ دهٔ اوامدادئے کړيدے دَ دهٔ او تابعداری ئے کړيده دَهغے رنړاچه نازل کړے شوے ده په دهٔ باندے نودغه کسان خاص دوی

موسیٰ عليه السلام وؤچه نسبت دَ دے عذاب ئے هغه چاته اوکړوچه هغوی دَ سخی عبادت کړے وؤ۔ يا مراد دَ سُفهآءُ نه بعض کسان دی دَ دے اوياء سړونه چه هغوی سوال کړے وؤدَ ليدلودَ الله تعالیٰ او نورکسان پرے غلی شول نوعذاب په ټولو راغے۔

[١٥٦] مراد دَ ﴿حَسَنَةً﴾ نه توفيق دَ نيکو اعمالودے اوهغه ژوند دَ دنيا چه صرف کولے شی دپاره دَ اخرت ﴿عَذَابِيْٓ﴾ اشاره ده چه نيول په ګناه سره اوعفوکول په اختياردَ الله تعالیٰ کښ دی ﴿وَرَحْمَتِيْ﴾ يعنی دَ عذاب نه بچ کول رحمت دَ الله تعالیٰ دے۔ اومراد دَ دے نه رحمت عامه دُنيويه دے اوداسے په سورة مؤمن (٧) کښ دی ﴿يَتَّقُوْنَ﴾ مراد دَ دے نه دَ ټولو اقساموَ شرك اوکفراوګناهونوکبيره نه بچ کيدل دی۔ ﴿وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ﴾ هرکله چه ادا دَ زکوٰة په بنی اسرائيلوباندے پير ګران وؤځکه دَ هغے تخصيص ئے اوکړوابن کثير وئيلی دی چه مراد دَ دے نه عام دے چه زکوٰة دَ مال وی اوکه دَ نفس وی﴿بِاٰيٰتِنَا﴾ ټول احکام منزله مراد دی چه په تورات کښ وؤياانجيل يا قرآن کښ﴿وَرَحْمَتِيْ وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ﴾ بعضِ مفسرينو وئيلی دی چه دا نازل شونوابليس اووئيل ځه هم طمع کوم دَ هغه دَ رحمت نوپه هغه باندے رد اوکړے شوپه دے قول سره چه ﴿فَسَأَكْتُبُهَا﴾ بيا يهوديانونصاراؤ دعویٰ اوکړه دَ دے صفاتوچه دا په مونږکښ شته دے نوالله تعالیٰ نازل کړو ورپسے ايت چه په هغے کښ رحمت دَ الله تعالیٰ خاص کړے شوپه اخری اُمت پورے دَ وجے دَ صفت دَ الذين يتبعون اه نه۔

[١٥٧] هرکله چه يهودونصاریٰ دعویٰ اوکړله چه تيرشوی درے صفتونه په مونږکښ موجود دی

الْمُفْلِحُوْنَ ﴿۱۵۷﴾ قُلْ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اِنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَيْكُمْ جَمِيْعًا الَّذِيْ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ
لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ ۠ فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الَّذِيْ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَكَلِمٰتِهٖ

کامیاب دی (۱۵۷) اُوایه: اے ټولو خلقو یقیناً ځه رسول دَ اللّٰه یم تاسو ټولوته (اوییان کوم) چه اللّٰه تعالیٰ هغه ذات دے چه خاص هغه لره بادشاهي دَآسمانونو او دَزمکے ده نیشته حقدار دَبندګئ بغیر دَ هغه نه ژوندی کول اومړه کول کوی پس ایمان راوړئ په اللّٰه تعالیٰ اوپه رسول دَهغه چه نبی امی دے چه هغه ایمان لری په اللّٰه تعالیٰ او په احکامو دَهغه

نورحمت په مونږ پورے خاص دے نودا صفت ئے ذکرکړوچه هغوی ترینه خارج شی اوپه دے ایت کښ دَ اخری نبی چه لس صفات ذکردی نودَغسے صفات دَ هغه په تورات اوانجیل کښ هم ذکروؤ ﴿الرَّسُوْلَ﴾ په اعتباردَ پیغام راوړلودے دَ اللّٰه تعالیٰ دَطرف نه اونبی په اعتبار دَ خبرورکولودے اُمت ته اوپه اعتباردَ لوئے مرتبے سره۔ اواُمی صفت دَ مدحے دَ هغه دے دا دَ بل چا دپاره دَ مدحے صفت نه شی کیدے اوپه دے صفت کښ معجزه ده اودَ هغے تفصیلی وجے تفسیرسراج المنیرلیکلی دی اوبل قول دا دے چه امی منسوب دے اُم القریٰ ته ﴿يَجِدُوْنَهٗ مَكْتُوْبًا﴾ یعنی نوم اوصفات دَ هغه اودلیل په دے باندے حدیث دَ مسند احمد دے چه ابن کثیرهغے ته حدیث جید وئیلے دے اویهود نصاریٰ اګرچه په تحریف دَ هغے کښ ډیرکوشش کړے دے لیکن بیا هم داسے عبارات موجود دی چه دلالت کوی په رسالت دَ نبی اخرالزمان باندے ﴿يَاْمُرُهُمْ بِالْمَعْرُوْفِ﴾ دَعطاء نه نقل دے چه په معروف کښ ترك دَ شرکیاتواوښائسته اخلاق اوصله رحمی ساتل داخل دی اومنکرکښ ټول شرکیات اوقطع دَصله دَ رحمئی داخل ده ﴿وَيُحِلُّ﴾ نسبت دَ حلال اوحرمت نبی ﷺ ته په طریقه دَ بیان کولوسره دے نه په طریقه دَ تشریع سره په دلیل دَحدیث دَ بخاری ج۱ ص۴۳۸ په باره دَنکاح کولودَ علی ﷺ دَ لور دَ ابوجهل سره ﴿الطَّيِّبٰتِ﴾ مراد دَ دے نه هغه څیزونه دی چه مشرکینو اویهود اونصاراؤ بغیردَ دلیل نه په ځان باندے حرام کړی وؤچه هغے ته تحریم دَ غیراللّٰه وئیلے شی او ﴿خَبٰٓئِثَ﴾ نه مراد خنزیر، وینه اوربوا وغیره ده چه یهودونصاراؤ ځان له حلال کړی دی یا مراد دَ دے نه عام دے ابن کثیردَ بعضِ علماؤنه نقل کړیدی چه هغه څیزچه شرعاً حلال دے نوهغه طیب دے اوبدن اودین لره نفع ورکوونکے دے اوهغه څیز چه حرام دے شرعاً نوهغه خبیث اوضرورورکوونکے دَ دین اودَبدن دے ﴿اِصْرَهُمْ وَالْاَغْلٰلَ﴾ دے دواړوکښ فرق دا دے چه اِصرهغه ګناهونو ته وائي چه هغه بغیردَتوبے نه نه معاف کیږی اواَغلال نه مراد سختے سزاګانے دی په سبب دَ بدوعملونودَ دوی ﴿وَعَزَّرُوْهُ﴾ دَ دے نه مراد حفاظت دَ دین دَ رسول اللّٰه ﷺ دے په ردکولودَ مشرکانو اودَ مبتدعینوسره ﴿وَنَصَرُوْهُ﴾ دَ دے نه مراد اشاعت دَ دین دَ رسول اللّٰه دے په جهاد اوپه قتال سره۔ حاصل دا دے چه دُعا دَ موسیٰ علیه السلام دَ هغه قوم ته هم فائده ورکړه لیکن خاصه فائده ئے دَ نبی ﷺ اُمت ته ورکړه۔

وَاتَّبِعُوْهُ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ ﴿۱۵۸﴾ وَمِنْ قَوْمِ مُوْسٰٓى اُمَّةٌ يَّهْدُوْنَ بِالْحَقِّ وَبِهٖ يَعْدِلُوْنَ ﴿۱۵۹﴾ وَقَطَّعْنٰهُمُ
اثْنَتَيْ عَشْرَةَ اَسْبَاطًا اُمَمًا ؕ وَاَوْحَيْنَآ اِلٰى مُوْسٰٓى اِذِ اسْتَسْقٰىهُ قَوْمُهٗٓ اَنِ اضْرِبْ بِّعَصَاكَ الْحَجَرَ ؕ
فَانْۢبَجَسَتْ مِنْهُ اثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْنًا ؕ قَدْ عَلِمَ كُلُّ اُنَاسٍ مَّشْرَبَهُمْ ؕ وَظَلَّلْنَا عَلَيْهِمُ الْغَمَامَ وَاَنْزَلْنَا
عَلَيْهِمُ الْمَنَّ وَالسَّلْوٰى ؕ كُلُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا رَزَقْنٰكُمْ ؕ وَمَا ظَلَمُوْنَا وَلٰكِنْ كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿۱۶۰﴾
وَاِذْ قِيْلَ لَهُمُ اسْكُنُوْا هٰذِهِ الْقَرْيَةَ وَكُلُوْا مِنْهَا حَيْثُ شِئْتُمْ وَقُوْلُوْا حِطَّةٌ وَّادْخُلُوا الْبَابَ

اوتابعداری اوکړئ دَهغه دے دپاره چه هدایت اومومئ (۱۵۸) اوبعضے دَقوم دَموسیٰ(علیه السلام) نه یوه ډله ده چه بیان کوی دَحق اوپه حق سره فیصلے کوی(۱۵۹)او تقسیم کړل مونږه دوی دولس خاندانونه ډلے او وحی اوکړه مونږه موسیٰ(علیه السلام) ته کله چه اوبه اوغوښتے دَهغه نه قوم دَهغه چه اوهه په همسا خپلے سره دغه کټه پس رااووتے دَهغے نه دولس چینے یقیناً پیژندلو هرے ډلے ګودر خپل اوسورے کړو مونږ په دوی باندے دَ وریځ او رااولیږل مونږ په دوی باندے تورنجبین اومړزان (اووے مونږه) خورئے دَ مزیدار هغه نه چه درکړیدی مونږ تاسوته اونه وو کړے ظلم دوی په مونږه لیکن دوی په ځانونو خپلو باندے ظلم کوو(۱۶۰) اوکله چه اُوئیلے شو دوی ته اوسئے په دے کلی کښ اوخورئے دَهغے نه چه کم ځائے کښ موخوښه وی اووائے لفظ دَحِطة او ورننوځئ دروازے ته

[۱۵۸] هرکله چه صفات دَ نبی ﷺ ذکرشول نو اوس ذکرکوی دعوت عامه دَ هغه سره دَ ذکرد مقصد دَ رسالت نه چه هغه توحید دے اوامردے په ایمان اواتباع دَ هغه سره دپاره دَ حصول دَ هدایت اوپه دے ایت کښ بیان دَ عموم دَ رسالت دَ اخری پیغمبردے یهود اونصاراؤ وغیره ټولوانسانانونه ترقیامته پورے او داسے په سورة العمران(۲۰) اوانعام (۱۹) کښ دی ﴿الَّذِیْ﴾ سره بیان دَ هغے مسئلے دَ توحید دے چه په هغے سره دا نبی ﷺ رالیږلے شوے وؤ اول توحید دَ ربوبیت دویم توحید دَ الوهیت دے ﴿یُؤْمِنُ بِاللّٰهِ﴾ دا دلیل دے په دے خبره چه پیغمبر هم مکلف دے په احکاموDَ اللّٰه تعالیٰ سره اودارنګ دَ دے نبی عقیده هم دَ خپل دعوت سره موافق ده۔

[۱۵۹] دے ایت کښ اشاره ده چه بنی اسرائیلونه داسے خلق شته دے چه دَ اخری نبی تابعداردی دوی په زمانه دَ موسیٰ(علیه السلام) کښ وؤاودارنګ په زمانه دَ نبی اخرالزمان کښ هم وؤ۔

[۱۶۰] هرکله چه عموم دَ رسالت دَ اخری نبی اودعوت دَ هغه ذکرشونواوس بنی اسرائیلوته تذکیربالنعم والنقم ذکر کوی دپاره دَ ترغیب اوتخویف تر(۱۶۸) پورے نوپدے ایت کښ تذکیردے بنی اسرائیلوته په ځلورو انعاماتوسره۔ اول انعام تقسیمول دَ دوی وؤپه دولس جماعتونو کښ دَ تنظیم دپاره۔ دویم انعام اوبهٔ راویستل دَګټے نه دریم سورے کول دَ وریځ ځلورم انعام من اوسلویٰ ﴿فَانْۢبَجَسَتْ﴾ انبجاس په معنیٰ دَ لږے لږے اوبو راوتلودے اوانفجارپه معنیٰ دَ ډیرو اوبو راوتلودے نو اول اوبه لږے لږے راوتے بیا ډیرے شوے اودَ دے انعاماتوذکرپه سورة بقره(۵۷،۶۰) کښ تیرشویدے ﴿اثْنَتَیْ عَشْرَةَ﴾ حال دے او ﴿اَسْبَاطًا﴾ بدل دے دَ حال نه او ﴿اُمَمًا﴾ صفت دَ اسباطا دے۔ فائده: په سورة بقره کښ مقصد تفصیل دَ

سُجَّدًا نَّغْفِرْ لَكُمْ خَطِيٰٓـئَتِكُمْ ؕ سَنَزِيْدُ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿١٦١﴾ فَبَدَّلَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مِنْهُمْ قَوْلًا غَيْرَ الَّذِيْ قِيْلَ
لَهُمْ فَاَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِجْزًا مِّنَ السَّمَآءِ بِمَا كَانُوْا يَظْلِمُوْنَ ﴿١٦٢﴾ وَسْـَٔلْهُمْ عَنِ الْقَرْيَةِ الَّتِيْ
كَانَتْ حَاضِرَةَ الْبَحْرِ ۘ اِذْ يَعْدُوْنَ فِي السَّبْتِ اِذْ تَاْتِيْهِمْ حِيْتَانُهُمْ يَوْمَ سَبْتِهِمْ شُرَّعًا وَّيَوْمَ
لَا يَسْبِتُوْنَ ۙ لَا تَاْتِيْهِمْ ۚ كَذٰلِكَ ۚ نَبْلُوْهُمْ بِمَا كَانُوْا يَفْسُقُوْنَ ﴿١٦٣﴾ وَاِذْ قَالَتْ اُمَّةٌ مِّنْهُمْ لِمَ

سرخکته کوونکی (په تعظیم سره) اوبه بخومونږ تاسوته ګناهونه ستاسو، خامخا زیات به کړو ثواب
دَ خائسته عمل کونکو(١٦١) پس بدل کړه هغه کسانو چه ظلم ئے کړے وو دَ دوی نه وینا(وائے
غسته) غیر دَهغے نه چه وئیلے شوے وه دوی ته پس راولیږو مونږ په دوی باندے سخت عذاب(مقرر
شوے) دَبرے نه په سبب دَ هغے چه دوی ظلم کوو(١٦٢) او تپوس اوکړه دَ دوی نه په باره دَهغه کلی
کښ چه وو په غاړه دَ دریاب کله چه دوی تیروتل کول(دَحد شرعی نه) په ورځ دَخالی کښ کله چه
راتلل دویته مهیان دَ دوی په ورځ دَخالی کښ نښکاره اوکله به چه ورځ دَخالی نه وه په دوی باندے نه
به راتلل دوی ته دغسے ازمیښت کوو مونږ په دوی په سبب دَهغے چه دوی وتل دَحکم دَ اللّٰه تعالیٰ نه
(١٦٣) اوکوم وخت چه اووے یوډلے دَ دوی نه ولے

انعاماتو وؤنودَ کمال دَ انعام دپاره ئے هلته انفجارذکرکړو اودلته انبجاس ذکرشو۔

[١٦١] دے کښ ذکردَ پنځم انعام دے چه مشتمل دے په ځلورواوامرو باندے دوه انعامات دی اودوه احکام دی تفسیرئیے تیرشویدے سورة بقره (٥٨)کښ سورة بقره کښ داخلیدل ذکرکړی وؤاودلته کښ ئے اوسیدل ذکرکړه ځکه داخلیدل مخکښ وی دَ اوسیدلونه اوترتیب قرآنی کښ سورة بقره مخکښ ده په دے سورة باندے۔

[١٦٢] دا تذکیردے په اول عذاب سره تفسیر ئے بیان شوے دے په سورة بقره (٥٩)کښ اوسبب دَ دے عذاب تبدیل دَ قول شرعی او عمل شرعی دے او په دے ایت کښ اودَ سورة بقره (٥٩)کښ اختلاف دَعبارت دے په اته طریقوسره چه دَ هغے تفصیل په سورة بقره کښ ذکردے۔

[١٦٣] دا تذکیردے په دویم عذاب سره چه سبب ئے حیله کول وؤ۔ اودا واقعه یهودیانوپتوله دَ وجے دَ شرم نه نوځکه اللّٰه اوفرمائیل ﴿وَسْـَٔلْهُمْ﴾ اودَ دے کلی نوم ایکه وؤاودے زمانه کښ هغے ته عقبه داؤد وائي۔ دے ایت کښ اشاره ده چه کله اللّٰه تعالیٰ امتحان کوی نوحرام ځیزونه ډیرکړی اوحلال کم کړی۔ دویم پدے کښ اشاره ده چه حیلے کول په احکاموشرعیو کښ دے ته عدوان وائي اودا حرام دی۔ اهل علم وائي چه هرهغه حیله چه حکمت شرعیه باطلوی یا په هغے سره رسیدل کیږی حراموته نوهغه ناجائزده بالاتفاق مثال دَ هغے په دے زمانه کښ حیله دَ اسقاط مروجه ده چه په دے سره حکمت شرعی ته نقصان رسی ځکه چه خلق په سبب دَ دے زړه ورشی په پریښودلودَ مانځه اودَ غسے دَ نورو فرائضو بل دا چه فدیه شرعیه دَ مانځه اودَ روژے دا حق دَ فقیرانودے اودَ دے حیلے په وجه ئے مالدارو لره اخستل جائزکوی نودا حیله حرام ده اوبدعت دے اوداسے په سورة بقره(٦٥)کښ تیرشویدی ﴿وَسْـَٔلْهُمْ﴾ مراد دَ سوال نه توبیخ اوتقریردَګناه دَ دوی دے اوپدے واقعه کښ دلیل دے په صدق دَ نبی ﷺ چه امی وؤچه دا

تَعِظُوْنَ قَوْمًا ۙ اللّٰهُ مُهْلِكُهُمْ اَوْ مُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا شَدِيْدًا ؕ قَالُوْا مَعْذِرَةً اِلٰى رَبِّكُمْ وَلَعَلَّهُمْ
يَتَّقُوْنَ ﴿١٦٤﴾ فَلَمَّا نَسُوْا مَا ذُكِّرُوْا بِهٖۤ اَنْجَيْنَا الَّذِيْنَ يَنْهَوْنَ عَنِ السُّوْٓءِ وَاَخَذْنَا الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا
بِعَذَابٍۭ بَئِيْسٍۢ بِمَا كَانُوْا يَفْسُقُوْنَ ﴿١٦٥﴾ فَلَمَّا عَتَوْا عَنْ مَّا نُهُوْا عَنْهُ قُلْنَا لَهُمْ كُوْنُوْا قِرَدَةً
خٰسِـِٕيْنَ ﴿١٦٦﴾ وَاِذْ تَاَذَّنَ رَبُّكَ لَيَبْعَثَنَّ عَلَيْهِمْ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ مَنْ يَّسُوْمُهُمْ سُوْٓءَ الْعَذَابِ ؕ اِنَّ

وعظ کوئے هغے قوم ته چه الله تعالی به هلاك کړی هغوی یابه عذاب ورکړی عذاب سخت، دوی اووے دپاره دَعذر پیش کولو رب ستاسوته او امید دے چه دوی به بچ شی (دَ دے ګناه نه) (١٦٤) پس هرکله چه هیر کړو دوی هغه حکم چه بیان شوے وو دوی ته نوبچ کړل مونږه هغه کسان چه منع ئے کوله دَ بدئے نه او اونیول مونږه هغه کسان چه ظلم ئے کړے وو په عذاب سخت سره په سبب دَ دے چه دوی نافرمانی کوله (١٦٥) پس هرکله چه دوی نافرمانی اوکړه دَهغه نه چه دوی منع شوی وو دَهغے نه نو اووے مونږ دوی ته شئے شادو ګان ذلیل (١٦٦) اوکله چه اعلان اوکړو رب ستا چه خامخا رالیږی به په دوی باندے تروړځ دَ قیامت پورے هغه څوك چه رسوی به دوی ته بدعذاب یقیناً

واقعه ئے نه دَ چانه اوریدلے ده اونه ئے لوستلے ده اوعلماء یهودوته ئے وریاده کړله ﴿حَاضِرَةَ الْبَحْرِ﴾ مراد دَ دے نه بحرقلزم دے اومراد دَ حاضره نه مجاور (په غاړه) دے ځکه چه حضورنقیض (مقابل) دَ غیبت دے دَ دے وجے نه غائب شخص ته حضور اوحضرت وئیل موهِم شرك دے۔

[١٦٤] دا ایت دلالت کوی په دے باندے چه په هغے خلقو کښ درے ډلے شوے یوے ډلے منع کوله دَ دے حیلے نه اودویمے ډلے منع کول هغوی لره دَتبلیغ دَ دے مسئلے نه نوهغه مخکښئی ډلے ورته جواب اوکړو چه په دے بیان کولوکښ دوه فائدے دی یوفائده زمونږذمه واری اداکول دی چه الله تعالی زمونږغاړه ازاده وی اودویمه فائده اُمید دے چه دا خلق پوهه شی اودَ دے ګناه نه ځان بچ اوساتی اودریمه ډله هغه وه چه داحیله ئے کوله نوپه ایت(١٦٣)کښ ذکردَ حیله ګرو وؤ اوپه (١٦٤)کښ ذکردَ دویمے ډلے (چه منع ئے کوله دَ وعظ کولونه صراحةً) اودریمه ډله په کښ ضمناً ذکرشویده۔

[١٦٥] دا ایت دلالت کوی په دے خبره چه دَ عذاب نه بچ شوے ده صرف اوله ډله اوپه دویمه ډله هم سخت عذاب راغلے دے چه دَهغے عِلم دَ الله تعالی سره دے۔ نوپدے ایت کښ مراد دَ ﴿الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا﴾ نه هغه دویمه ډله ده ۔ دا قول قرطبی دَ ابن عباس ﷺ نه روایت راوړے دے اګر چه دَ هغه نه دَ دے خلاف روایت هم شته دے۔

[١٦٦] په دے ایت کښ عذاب دَ دریمے ډلے ذکردے اودَ دوی جرم دَ دویمے ډلے نه زیات وؤځکه دَ دوی په باره کښ لفظ دَ ﴿عَتَوْا﴾ اوفرمائیلو اوعذاب دَ دوی دَ هغوی نه سخت وؤ۔

فائده: هرکله چه په حیلے سره مسخ دَ دین رائی دَ دے وجے نه عذاب په مسخ سره ورکړے شودپاره دَ مناسبت۔

رَبَّكَ لَسَرِيْعُ الْعِقَابِ ۖ وَاِنَّهٗ لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١٦٧﴾ وَقَطَّعْنٰهُمْ فِي الْاَرْضِ اُمَمًا ۚ مِنْهُمُ الصّٰلِحُوْنَ وَ
مِنْهُمْ دُوْنَ ذٰلِكَ ۫ وَبَلَوْنٰهُمْ بِالْحَسَنٰتِ وَالسَّيِّاٰتِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿١٦٨﴾ فَخَلَفَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ
وَّرِثُوا الْكِتٰبَ يَاْخُذُوْنَ عَرَضَ هٰذَا الْاَدْنٰى وَيَقُوْلُوْنَ سَيُغْفَرُ لَنَا ۚ وَاِنْ يَّاْتِهِمْ عَرَضٌ مِّثْلُهٗ
يَاْخُذُوْهُ ۭ اَلَمْ يُؤْخَذْ عَلَيْهِمْ مِّيْثَاقُ الْكِتٰبِ اَنْ لَّا يَقُوْلُوْا عَلَى اللّٰهِ اِلَّا الْحَقَّ وَدَرَسُوْا مَا فِيْهِ ۭ
وَالدَّارُ الْاٰخِرَةُ خَيْرٌ لِّلَّذِيْنَ يَتَّقُوْنَ ۭ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿١٦٩﴾ وَالَّذِيْنَ يُمَسِّكُوْنَ بِالْكِتٰبِ وَاَقَامُوا

رب ستا خامخا زرعذاب ورکوونکے دے اویقیناً هغه خامخا بخونکے رحم کوونکے دے (١٦٧) اوتس نس کړل مونږه دوی په زمکه کښ مختلفے ډلے بعضے دَ دوی نه نیکان دی اوبعضے دَ دوی نه سیوا دَ دے نه دی او ازمیښت اوکړومونږ په دوی باندے په خوشحالو او په تکلیفونو سره دے دپاره چه دوی راوګرځی (دَنافرمانیٔ نه)(١٦٨) پس پیدا شول روستو دَ دوی نه ناکاره خلق وائے غستو کتاب په میراث کښ اخلی (حرام) مال دَ دے ذلیل ژوند او وائی دوی خامخا بخنه به کیږی مونږته اوکه راشی دوی ته حرام مال دغسے نور هغه هم اخلی آیانه دے اغستے شوے دَ دوی نه کلك لوظ په کتاب کښ چه نه به وائی دَ اللّٰه تعالیٰ په باره کښ مګر حقه خبره اولوستلی دی دوی هغه حکمونه چه په دے کتاب کښ دی اوکور روستنے(جنت) غوره دے هغه خلقو لره چه ځان ساتی دَ شرك نه آیا پس عقل نه لرئے تاسو۔ (١٦٩) اوهغه کسان چه عمل کوی په کتاب دَ اللّٰه تعالیٰ اوپابندی کوی

[١٦٧] دے ایت کښ یره دُنیوی ده هغه چالره چه هغوی دین دَ اللّٰه تعالیٰ بدلوی په حیلو وغیره سره چه په دوی باندے به حاکمان مقررشی چه دوی لره به ذلیل کړی اوجزیه به ترینه اخلی۔

[١٦٨] دے ایت کښ هم یره دُنیوی ده چه دَ دغے ګناه نه روستوپدوی کښ مختلفے ډلے پیدا شوے اوپه زمکه کښ مختلف مکانونوکښ تقسیم شول دپاره دَ دے چه یوځائے کیږی نه اواتفاق ئیے رانشی نودا هم عذاب دے اوامتحان اوشوپه دوی باندے په نعمتونواوپه عذابونوسره۔

[١٦٩] دَ دے ځائے نه تر اخره پورے دَ دے حصے دریم باب دے په دے کښ دَ یهودیانویوقول په ځلوروطریقوسره ردکړیدے اوبیا ایتونه دی چه تعلق لری دَ سورة دَ درے واړودَ عووسره اوهغه اوه زواجر دی۔ او رد دَ شرك دے تفصیلاً اوپه اخرکښ اداب دَ دعوت الی اللّٰه دی۔ په دے ایت کښ ذکردَ روستوخلقودے پس دَ بیان دَ حال دَ مشرانودَ دوی نه ﴿خَلْفٌ﴾ په سکون دَلام سره ناکاره نائبانوته وائي مطلب دادے چه دے روستنومُلایانودَ دین په ذریعه حرام مالونه خوړل او وئیل به ئیے چه دا مونږته حلال دی ځکه چه مونږبخلے شوی یو۔ لکه په دے اُمت هم بعضِ پیران اومُلایان حرام خوری اودا بهانه کوی چه دا مونږ لره حلال دی زمونږدَ مرتبے دَ وجے نه اومفسر الوسی دَ دے په شرح کښ حال دَ بعضِ پیرانو اوصوفیاؤ ذکرکړے دے﴿عَرَضٌ﴾ په زوردَ راسره ټول سامان دَ دُنیا ته وئیلے شی اوپه سکون دَ راسره سامانونه بغیردَ روپواشرفونه ﴿اَلَمْ يُؤْخَذْ﴾ دا اول رد دے دَ دوی په قول باندے چه دوی بخلے شوے وے نو ولے دَ دوی نه دا لوظ اخستلے کیدلو۔

الصَّلٰوةَ ؕ اِنَّا لَا نُضِيْعُ اَجْرَ الْمُصْلِحِيْنَ ﴿۱۷۰﴾ وَ اِذْ نَتَقْنَا الْجَبَلَ فَوْقَهُمْ كَاَنَّهٗ ظُلَّةٌ وَّ ظَنُّوْۤا اَنَّهٗ
وَاقِعٌۢ بِهِمْ ۚ خُذُوْا مَاۤ اٰتَيْنٰكُمْ بِقُوَّةٍ وَّ اذْكُرُوْا مَا فِيْهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿۱۷۱﴾ ع وَ اِذْ اَخَذَ رَبُّكَ مِنْۢ بَنِيْۤ
اٰدَمَ مِنْ ظُهُوْرِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَ اَشْهَدَهُمْ عَلٰۤى اَنْفُسِهِمْ ۚ اَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ ؕ قَالُوْا بَلٰى ۛؕ شَهِدْنَا ۛؕ اَنْ
تَقُوْلُوْا يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اِنَّا كُنَّا عَنْ هٰذَا غٰفِلِيْنَ ﴿۱۷۲﴾ اَوْ تَقُوْلُوْۤا اِنَّمَاۤ اَشْرَكَ اٰبَآؤُنَا مِنْ قَبْلُ وَ كُنَّا

دَمانځه یقیناً نه برباد وو مونږه ثواب دَ داسے اصلاح کوونکو (۱۷۰) اوکم وخت چه پورته کړو مونږه غږ دپاسه دَ دوی کویا کښ داچترئ وه او یقین اوکړو دوی چه داراپریوتونکے دے په دوی باندے (اووئیل مونږه) اونیسئ هغه کتاب چه درکړیدے مونږ تاسوته په کوشش سره اویادوئ هغه چه په دے کتاب کښ دی دَ دے دپاره چه متقیان شئے (۱۷۱) اوکم وخت چه واغستورب ستا دَ بنیادمو نه دَشاګانودَهغی نه اولاد دَهغی اوحال داچه ګواهان کړی ئیے وو دوئ په ځانونو خپلو باندے آیائځه نه یم ستاسورب؟ اووے دوی ولے نه ئے ګواهی کوومونږ(داوعده یاده کړه مونږه) چه اونه وایئ تاسو په ورځ دَقیامت چه یقیناً مونږه دَ دے توحید نه بے خبره وو(۱۷۲) یااونه وائے تاسو چه یقیناً شرك کړے وو مشرانو ځمونږ مخکښ زمونږنه او مونږه وو

[۱۷۰] دے ایت کښ دَنیکانو ذکردے اودلیل دے په دے خبره چه ځوك دَاللّٰه تعالیٰ په کتاب باندے عمل کوی اوبیا نوی ئیے هم اودَ مانځه پابند وی نودابیان دَ امرمصلح دے اوښکاره نښه ده دَ تمسك بالکتاب اوهغه اصلاح کوونکی دی اګرچه مخالفین هغوی ته شریان وائی۔

[۱۷۱] دا دویم رد دے دَ هغوی په قول باندے مطلب دا دے که تاسوبخلے شوی ئیے نو ولے په تاسوباندے دَ لوظ اخستلوپه وخت کښ غرپورته کړے شوے وؤاومجبوره شوئے لوظ کولوته بیا دا ایت صریح دے په دے خبره کښ چه دا غرپه دوی باندے په حقیقت کښ پورته کړے شوے وؤ اوداسے په سورة بقره (۹۳،۶۳) کښ ذکر دی ﴿نَتَقْنَا﴾ نتق په لغت کښ ځه ځیز لره دَ ویخ نه راویستل او ویشتل دی دلته مراد پورته کول دی په دلیل دَ فوق او ظلّه سره او ﴿ظُلَّةٌ﴾ هر هغه ځیز ته وئیلے شی چه سورے کوی که چت دَکوټی وی یا وریځ وی یا چترئے وی۔

[۱۷۲] دا دریم رد دے دَ هغوی په قول باندے که تاسوبخلے شوی ئیے نوولے ستاسو نه دا عهد دَ توحید اخستلے کیدو اوبیا ولے ئیے په واسطه دَ پیغمبرانواودَکتابونوسره یا دولو۔ دے ایت کښ وعده دَ عالم ارواح دَ وخت مراد ده دَ هغے په باره کښ اګرچه مرفوع صحیح حدیث نیشته لیکن موقوف صحیح حدیث شته اوپه دے باب کښ موقوف حدیث پشان دَحدیث مرفوع قبلیږی حاصل دَ هغے دا دے چه دَ آدم علیه السلام دَ شانه دَ هغه ټول اولاد په شکل دَ نرومیږوکښ راویستلے شواوهغوی نه دا لوظ واخستلے شواوبعضِ مفسرینودَ دے ایت نه مرادکړے دے پیدائیش دَ هرېچی په توحید باندے اوهغے نه کنایه کړے شوے ده په لوظ اخستلوسره په اول تفسیرباندے دَبنی آدم نه مراد ادم علیه السلام دے یا دا چه هغه وخت ئیے دوی داسے پیداکړل لکه چه روستوئیے په سلسلے سره پیداکړی دی لیکن دا قول دَ صریح حدیث نه خلاف دے اوپه اول قول باندے هم اعتراض دے چه دا دَ فصیح کلام نه خلاف دے چه دَ آدم په ځائے ئیے بنی آدم ذکرکړے دے۔

ذُرِّيَّةً مِّنْۢ بَعْدِهِمْ ۚ اَفَتُهْلِكُنَا بِمَا فَعَلَ الْمُبْطِلُوْنَ ﴿۱۷۳﴾ وَكَذٰلِكَ نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ وَلَعَلَّهُمْ
يَرْجِعُوْنَ ﴿۱۷۴﴾ وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَاَ الَّذِيْٓ اٰتَيْنٰهُ اٰيٰتِنَا فَانْسَلَخَ مِنْهَا فَاَتْبَعَهُ الشَّيْطٰنُ فَكَانَ
مِنَ الْغٰوِيْنَ ﴿۱۷۵﴾ وَلَوْ شِئْنَا لَرَفَعْنٰهُ بِهَا وَلٰكِنَّهٗٓ اَخْلَدَ اِلَى الْاَرْضِ وَاتَّبَعَ هَوٰىهُ ۚ فَمَثَلُهٗ كَمَثَلِ
الْكَلْبِ ۚ اِنْ تَحْمِلْ عَلَيْهِ يَلْهَثْ اَوْ تَتْرُكْهُ يَلْهَثْ ؕ ذٰلِكَ مَثَلُ الْقَوْمِ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا ۚ
فَاقْصُصِ الْقَصَصَ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُوْنَ ﴿۱۷۶﴾ سَآءَ مَثَلًا ۨ الْقَوْمُ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَاَنْفُسَهُمْ

اولاد روستو دَهغی نه نو آیاپس هلاکوے ته مونږنه په هغه کارچه کړیدے باطل پرستو خلقو (۱۷۳) اودغسے تفصیلی بیانؤو مونږ آیتونه(د پاره دَیاداشت دَ دوی) او دپاره دَ دے چه رااوګرځی(حق ته) (۱۷٤) اوبیان کړه په دوی باندے خبر دَهغه چاچه ورکړے وو مونږ هغه ته علم دَ آیتونو زمونږ پس اووتلو دَهغے نه (په پریخودلو دَعمل سره) پس ورپسے شو شیطان پس شودے دَګمراهانونه (۱۷۵) اوکه غوښتے وے مونږه نوخامخا پورته کړے به وه مونږه مرتبه دَ دهٔ په عمل دَ آیتونو سره لیکن دے کوزشو دُنیاته اوروان شو په خواهش خپل پسے پس حال دَ دهٔ پشان دَحال دَ هغه سپی شو که حمله کوے ته په هغه باندے نوژبه رااوباسی اوکه پریږدے دهٔ لره نوژبه رااوباسی دا مثال دَهغے قوم دے چه دروغژن ګنړی آیتونه زمونږ پس بیان کړه دابیان، دے دپاره چه دوی فکر اوکړی (۱۷٦) بد دے په مثال کښ هغه قوم چه دروغژن ګنړی آیتونه زمونږ اوپه خپلو ځانونو دوی

[۱۷۳] دَ ایت حاصل دا دے چه دَمشرکانونه عهد نه وے اخستلے شوے اودَ رسول په ذریعه یاداشت نه وے ورکړے شوے نو دوی به دوه بهانے کولے یوغفلت (ناخبری) اودویم تقلید دَ مشرانو نو روستودَ رالیګلودَ رسولانونه دَ چا جهل عذرنه دے او دارنګ تقلید هم جائزنه دے۔

[۱۷٤] دا هم تاکید دَ ماقبل دے یعنی تفصیل دَ ایاتونوسبب دَ ازالے دَ غفلت اودَ رجوع دے دَ تقلید نه۔

[۱۷۵] دا ځلورم رد دے په قول دَ هغوی باندے که تاسوبخلے شوی ئے نوبیا څه وجه ده چه ستاسوعالم دَ وجے دَ بدعملئی نه په شاتے دَ سپی شو۔ دَ ډیروصحابه کرامونه دا نقل کړے شوے ده چه دغه عالم بلعام ابن باعوره وؤ چه دے ډیرلوئے عالم وؤ دولس زره شاګردان دَ دهٔ په مجلس کښ به وؤاودعوت ئے کوؤایمان ته لیکن دَهغه وخت یوبادشاه ورله دَمال حرص ورکړو چه دَ هغے په وجه ئے دَ موسیٰ علیه السلام خلاف شروع کړواودَ تورات نه ئے مخ اوګرځوواو وئیلے شویدی چه په دُنیاکښ اول دهٔ کتاب لیکلے وؤپه دے مسئله باندے چه دَ دُنیا دپاره څوك جوړوونکے نیشته یعنی دُنیا قدیم ده﴿فَانْسَلَخَ مِنْهَا﴾ انسلاخ په اصل کښ دَځاروی نه څرمن ویستلوته وئیلے شی یامارچه پوستکے اوغورزوی یعنی دهٔ دَکتاب الله نه انکار اوکړواوپه هغه باندے عمل پریښودلو﴿فَاَتْبَعَهُ الشَّيْطٰنُ﴾ اتباع کنایه ده دَ لزوم نه یعنی شیطان دَ دهٔ په ګمراه کولوپسے اونښتلو۔

[۱۷٦] ﴿لَوْ شِئْنَا﴾ اشاره ده چه هدایت په اختیاردَ الله تعالیٰ کښ دے ﴿لَرَفَعْنٰهُ بِهَا﴾ په عقیده اوعمل کولوسره په کتاب الله باندے عزت اولویه مرتبه حاصلیږی۔ دے ایت کښ اول دَ دهٔ دوه ګناهونه ذکر

كَانُوْا يَظْلِمُوْنَ ﴿۱۷۷﴾ مَنْ يَّهْدِ اللّٰهُ فَهُوَ الْمُهْتَدِيْ ۚ وَمَنْ يُّضْلِلْ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿۱۷۸﴾ وَلَقَدْ ذَرَاْنَا لِجَهَنَّمَ كَثِيْرًا مِّنَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ ۖ لَهُمْ قُلُوْبٌ لَّا يَفْقَهُوْنَ بِهَا ۡ وَلَهُمْ اَعْيُنٌ لَّا يُبْصِرُوْنَ بِهَا ۡ وَلَهُمْ اٰذَانٌ لَّا يَسْمَعُوْنَ بِهَا ؕ اُولٰٓئِكَ كَالْاَنْعَامِ بَلْ هُمْ اَضَلُّ ؕ اُولٰٓئِكَ هُمُ

ظلم کوی (۱۷۷) هغه څوك چه هدایت اوکړی هغه لره الله تعالی پس هغه لار موندونکے دے اوهغه څوك چه بے لارے کړی هغه لره الله تعالی پس دغه کسان دوی تاوان والادی(۱۷۸) اویقیناً پیدا کړیدی مونږه دَجهنم دپاره ډیر دَپیریانونه او انسانانونه، دوی لره داسے زړونه دی چه نه پوهیږی په هغے سره(په حق باندے) او دوی لره سترګے دی چه نه وینی دوی په هغے سره(حق لره) او دوی لره غوږونه دی چه نه اوری دوی په هغے سره(حق لره) دغه کسان پشان دَڅاروو دوی بلکه دَ هغوی نه زیات (ناپوهه) دی دغه کسان هم دوی

شوی دی یومحبت دَ دُنیا سره، اَخْلَدَ کښ میلان اولزوم دواړه داخل دی۔ بل تابعداری دَ خواهش اودا دواړه جړدَ ټولوګناهونودے۔ دے دَ سپی سره مشابه کړے شوپه لهث کښ اولهث وائي دے ته چه ژبه ئے راویستلے وی اوځُله خوځوی اوهنکیږی لکه چه دا حالت دَ سپی په هر وخت کښ وی که ته یئے شړے اوکه نه شړے دارنګ حال دَ هغه عالم شوچه هغه ته وعظ کیدے شویا نه شوکیدے خودَ خپل ذلت نه نه منع کیدلو﴿اِنْ تَحْمِلْ عَلَيْهِ﴾ تشبیه دَ مطلق سپی سره نه ده بلکه هغه سپے چه لاهث وی نو ښکاری (معلم سپے) دَ دے نه خارج دے ﴿كَمَثَلِ الْكَلْبِ﴾ په دے کښ دوه قولونه دی اول داچه دے په شکل دَ سپی لاهث شویعنی ژبه ئے حقیقت کښ را بهرشوه دویم قول دا تشبیه ده په صفت کښ یعنی لهث دلالت کوی په ډیرحرص دَ دُنیا اودَ خوراك باندے۔ فائده: مفسرینو لیکلی دی چه دا مثال شامل دے علماؤدَ دے اُمت ته هم چه هغوی په قرآن اوپه سنت عمل پریښودلے وی اوپه کفر شرك بدعاتوخواهشاتوکښ اخته شی دَ دُنیا دَ محبت اودَ هغے دَ حصول دپاره نوهغه دَ دغسے سپی سره مشابهت لری۔ لکه څنګه چه سپے چا پسے (۱) غټیږی خوچه لږخوارك ورته واچولے شی نوغلے شی۔ او(۲)دا رنګ په خپل هم جنسوباندے حمله کوی او(۳)دارنګ خپل قے هم واپس ستنی دَ دے وجے نه په حدیث دَ بخاری کښ دَ هغه چا مثال ئے سپی سره ورکړے دے چاله چه بخښش یا خیرات ورکړی اوبیا ئے ترینه واپس اخلی۔ او(٤)دارنګ چه متیازے کوی نوخپه اوچته کړی اوپه پاك بوټی یاکټ باندے بول کوی دَ دے دپاره چه څه پلیت نشم اودا ټول اوصاف دلالت کوی په ډیرحرص اوخساست باندے ﴿يَتَفَكَّرُوْنَ﴾ علامه طیبی لیکلی دی چه چا دَ دے زمانے په ناکاره ملایانوکښ فکر اوکړونو یقیناً اوبه مومی دوی دَ بلعام نه زیات ناکاره۔

[۱۷۷] دا ایت دلالت کوی په تعمیم اوتقبیح دَ دے مثال باندے۔

[۱۷۸] دا ایت تعلق لری دَ سورت دَ اولے دعوے سره اودارنګ په دے ایت کښ دوه ډلے ذکردی چه پس دَ دغے مثال نه دا ډلے معلومیږی اودَ دے ایت نه زواجر شروع شول دا اول زجردے۔

الْغٰفِلُوْنَ ﴿١٧٩﴾ وَلِلّٰهِ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى فَادْعُوْهُ بِهَا ۪ وَذَرُوا الَّذِيْنَ يُلْحِدُوْنَ فِيْٓ اَسْمَآئِهٖ ؕ
سَيُجْزَوْنَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿١٨٠﴾ وَمِمَّنْ خَلَقْنَآ اُمَّةٌ يَّهْدُوْنَ بِالْحَقِّ وَبِهٖ يَعْدِلُوْنَ ﴿١٨١﴾ وَالَّذِيْنَ

بے پرواه دی(۱۷۹) او خاص اللّٰه تعالیٰ لره نومونه (اوصفتونه) خائسته دی پس دُعا غواړئ دَ اللّٰه تعالیٰ نه په وسیله دَهغے او پریږ دئے هغه کسان چه کږلیچ کوی په نومونه دَ اللّٰه تعالیٰ کښ زردے بدله به ورکړیشی دوی ته دَ هغه عملونو چه دوی ئیے کوی (۱۸۰) او دَهغه چانه چه پیداکړیدی مونږه یوه ډله ده چه بیان کوی دَحق اوپه هغے فیصلے کوی (۱۸۱) اوهغه کسان

[۱۷۹] دا ایت تعلق لری دَ سورة دَ دویمے دعوے سره اودارنګ په تیرشوی ایت کښ چه دویمه ډله وه دَ هغئی حال ذکر کوی اودویم زجردے۔ سوال: سورة الذاریات کښ ئیے فرمائیلی دی چه جن اوانس مے دَ عبادت دپاره پیداکړی دی اودے ایت کښ ذکردی چه دوی دَ جهنم دپاره پیدا دی؟ جواب: سورة الذرایات کښ غایة تشریعی ذکر ده اوپه دے ایت کښ غایه تکوینی ذکر ده ﴿لَهُمْ قُلُوْبٌ﴾ اشاره ده چه اسباب دَ علم دَ دوی برباد دی دا پشان دَ ایت دَ ختم اللّٰه علیٰ قلوبهم اه دے او تشبیه په دے ایت کښ دَ څاروؤسره په دے خبره کښ ده چه دَ هغوی مقصد هم صرف خوراك اوڅښكاك اوشهوت چلول دی دغه مقصد دَ دے کافرانوهم دے ﴿بَلْ هُمْ اَضَلُّ﴾ دا دَ دے وجے چه څاروو کښ شعوردَ دے خبرے شته چه دَ خپلے فائدے اودَ نقصان په څایونوپوهیږی دارنګ خپل مالك پیژنی اودَ هغه تابعدار وی اوپه دے کسانو کښ داسے نیشته۔

[۱۸۰] دا ایت تعلق لری دَ سورت دَ دریمے دعوے سره چه حاجات صرف دَ یواللّٰه تعالیٰ نه غواړئے اوهغه سره په بلنه کښ شریك مه جوړوئے اودا دریم زجردے۔ نومونودَ اللّٰه تعالیٰ ته حسنیٰ ځکه وائي چه دا دلالت کوی دَ هغه په پیژندګلئی اوپه توحید اوپه وجود اوپه کمال دَ هغه باندے۔ اوبله وجه دا ده چه دا نومونه اللّٰه تعالیٰ دپاره پخپله دی اللّٰه تعالیٰ په دے تسمیه کښ هیڅاته محتاج نه دے ﴿فَادْعُوْهُ بِهَا﴾ دا دلیل دے په دے باندے چه په دُعاکښ وسیله دَ اللّٰه نومونه اوصفات پیش کول پکاردی لکه څنګه چه دَ قرآن اودَ سنت په ډیرودُعاګانوکښ نومونه اوصفات دَ اللّٰه تعالیٰ په طریقه دَ وسیلے سره ذکردی او دَ دے ایت په تفسیرکښ قول دَ امام ابوحنیفهؒ فقهاؤ نقل کړے دے، چه نه دی مناسب هیڅاله چه دُعا اوغواړی دَ اللّٰه تعالیٰ نه مګرپه وسیله دَ نومونواوصفتونودَ اللّٰه تعالیٰ۔ دارنګ دَ فا دعوا بله معنیٰ دا ده چه ذکرکوئے اللّٰه تعالیٰ لره په دغه نومونوسره دَ دے وجے نه ذکردَ اللّٰه تعالیٰ اودُعا دَ هغه په لفظ دَ خدائے سره جائزنه ده صرف دَ معنے په لحاظ سره دَ اطلاق کولوجواز لری لکه دَ خالق معنیٰ پیداکوونکے نودَ مالك معنیٰ خدا ده ﴿يُلْحِدُوْنَ﴾ کوږ والے په نوم دَ اللّٰه تعالیٰ کښ په یوځوطریقوسره دے۔یوطریقه شرك کول دی په هغے کښ چه دَاللّٰه تعالیٰ نومونه اوصفتونه بل چاله هم منی دویمه طریقه صفت کول دَاللّٰه تعالیٰ دی په داسے صفت سره چه دَ هغه دَ شان سره نه ښائي اونه نقل وی۔

[۱۸۱] دا ایت دلیل دے په دے خبره باندے چه ترقیامت پورے په دے اُمت کښ داسے کسان به وی چه دعوت به کوی حق طرف ته اومقابله به کوی دَ ملحدینوسره اوداسے مضمون په صحیح حدیث کښ هم

كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا سَنَسْتَدْرِجُهُمْ مِّنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۸۲﴾ وَاُمْلِيْ لَهُمْ ؕ اِنَّ كَيْدِيْ مَتِيْنٌ ﴿۱۸۳﴾
اَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوْا ۗ مَا بِصَاحِبِهِمْ مِّنْ جِنَّةٍ ؕ اِنْ هُوَ اِلَّا نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿۱۸۴﴾ اَوَلَمْ يَنْظُرُوْا فِيْ مَلَكُوْتِ
السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا خَلَقَ اللّٰهُ مِنْ شَيْءٍ ۙ وَّاَنْ عَسٰۤى اَنْ يَّكُوْنَ قَدِ اقْتَرَبَ اَجَلُهُمْ ۚ فَبِاَيِّ
حَدِيْثٍ بَعْدَهٗ يُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۸۵﴾ مَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَلَا هَادِيَ لَهٗ ؕ وَيَذَرُهُمْ فِيْ طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُوْنَ ﴿۱۸۶﴾

چه دروغژن ګڼړي آیتونه زمونږ په رو رو نیسو مونږ هغی لره په داسې طریقه چه دوی به نه پوهیږی (۱۸۲) او مهلت ورکوم دوی ته یقیناً نیول ځما کلك دی(۱۸۳) آیا دوی سوچ نه کوی (په قرآن کښ) چه نیشته دَ دوی په خیر خواه باندې هیڅ لیونتوب نه دے هغه مګر یره وونکے ښکاره دے (۱۸٤) اوآیا دوی نظرنه کوی(په نظر دَعبرت) په بادشاهئ دَ آسمانونو او زمکه کښ اوپه هغه کښ چه پیدا کړیدی اللّٰه تعالیٰ هرشے اوپه دے خبره کښ چه یقیناً نزدے راغلے ده نیټه دَ دوی پس په کومه خبره باندے پس دَ قرآن نه دوی ایمان راوړی (۱۸۵) هغه څوك چه بے لارے کړی هغه لره اللّٰه تعالیٰ پس نیشته په لار روانوونکے دَهغه اوپریږدئ دوی لره په سرکشئی دَ دوی کښ ګډوډ (۱۸٦)

راغلے دے چه ابن کثیرنقل کړے دے۔

[۱۸۲] دا ایت تعلق لری دَ سورة د اولے دعوے سره اودارنګ دا ذکرد دویمے ډلے دے په مقابله دَ هغه ډله کښ چه په ړومبی ایت کښ ذکرشوه اوځلورم زجردے۔ استدراج دے ته وائي چه یوانسان ګناهونه کوی اوتوبه نه اوباسی اوسره دَ دے نه اللّٰه تعالیٰ هغه له نعمتونه دَ دنیا ورکوی اوکله نا آشناکارونه هم دَ هغه نه ښکاره کوی اوبیا هم دے دَ اللّٰه تعالیٰ شکرنه کوی۔ لکه داسے حالت به دَ دجال وی۔

[۱۸۳] دا هم دَ استدراج یوقسم دے چه مهلت ورکوی اوعذاب پرے نه راولی اوپه ایت کښ یره ورکول دی دَ عذاب دُنیوی نه اوداسے په سورة العمران (۱۷۸)کښ هم دی۔

[۱۸٤] دا پنځم زجردے منکرینودَ رسالت ته چه دوی که په قرآن پاك سوچ کړے وے یا دَ دے نبی په حالاتواوصفاتوکښ فکرکړے وے دوی ته به معلومه شوے وے چه دا رسول رشتینے دے مجنون نه دے۔

[۱۸۵] دا شپږم زجردے منکرینودَ توحیدته چه دوی ولے سوچ نه کوی دَ اسمانونواودَ زمکے په نظام چلیدلوکښ او دارنګ په ټولومخلوقاتوکښ چه دوی ته توحید معلوم شی دارنګ دوی دا سوچ ولے نه کوی چه زمونږه نیټه دَ مرګ یا دَ عذاب رانزدے ده نوچه دَ هغے نه مخکښ مسئله دَ توحید او منې ﴿حَدِيْثٍ﴾ هغه کلام ته وئیلے شی چه نقل کیږی نوقرآن هم داسے دے چه نقل کړے دے جبرائیل دَ اللّٰه تعالیٰ نه اونبی ﷺ نقل کړیدے دَ جبرائیل نه دا په معنیٰ دَ حادث نه دے لکه چه معتزله وائي اودا ایت دلیل دے چه روستودَ قرآن نه بل منزل کتاب نیشته او روستودَ محمد ﷺ نه بل رسول نیشته۔

[۱۸٦] دا اُومه زورنه ده منکرینوته او وجه ده دپاره دَ سوچ نه کولوچه مخکښ ایت کښ تیرشواوهغه وجه اضلال او طغیان اوعمه (ګډوډ کیدل) دی۔

يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ السَّاعَةِ اَيَّانَ مُرْسٰىهَا ؕ قُلْ اِنَّمَا عِلْمُهَا عِنْدَ رَبِّيْ ۚ لَا يُجَلِّيْهَا لِوَقْتِهَاۤ اِلَّا هُوَ ؕ ثَقُلَتْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ لَا تَاْتِيْكُمْ اِلَّا بَغْتَةً ؕ يَسْـَٔلُوْنَكَ كَاَنَّكَ حَفِيٌّ عَنْهَا ؕ قُلْ اِنَّمَا عِلْمُهَا عِنْدَ اللّٰهِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۸۷﴾ قُلْ لَّاۤ اَمْلِكُ لِنَفْسِيْ نَفْعًا وَّلَا ضَرًّا اِلَّا مَا شَآءَ اللّٰهُ ؕ وَلَوْ كُنْتُ اَعْلَمُ الْغَيْبَ لَاسْتَكْثَرْتُ مِنَ الْخَيْرِ ۛ وَمَا مَسَّنِيَ السُّوْٓءُ ؕ اِنْ اَنَا اِلَّا نَذِيْرٌ وَّبَشِيْرٌ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۱۸۸﴾ هُوَ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ وَّجَعَلَ مِنْهَا زَوْجَهَا لِيَسْكُنَ

وقف لازم
معانقة ۸ ج ۹ ع ۳

تپوس کوی دوی ستانه په باره دقیامت کښ چه کله به وی راتلل دَ هغے ته اووایه یقیناً علم دَهغے خاص دَرب ځما سره دے نه به ښکاره کوی هغے لره په وخت دَهغے مګر اللّٰه تعالیٰ درنهٔ خبره ده په آسمانونو کښ اوپه زمکه کښ نه به راځی تاسوته مګر ناګاهه تپوس کوی دوی ستانه چه ګویاکه ته تلاش کوونکے دَهغے ئے اووایه یقیناً علم دَهغے اللّٰه تعالیٰ سره دے لیکن ډیر خلق نه پوهیږی(۱۸۷) اُووایه ځه اختیار نه لرم ځان لره دَهیڅ نفعے اونه دَضرر مګر هغه چه اوغواړی اللّٰه تعالیٰ (نوکوی) اوکه ځه پوهیدے په غیب باندے نوخامخا ډیرے به حاصل کړیوے ما فائدے په داسے حال چه نه به رسیدلے ماته څه تکلیف نه یم ځه مګر یره ورکوونکے او زیرے ورکوونکے هغے قوم لره چه ایمان لری (۱۸۸) خاص اللّٰه تعالیٰ هغه ذات دے چه پیدا کړی ئے تاسو دَجنس یونه اوپیدا کړے ئے ده دَ دغے جنس نه بی بی دَ دهٔ دے دپاره چه ارام اوکړی

[۱۸۷] دا اتمه زورنه ده په باره دَ انکاردَ قیامت کښ اودا علت دَ سرکشئی دَ هغوی دے چه مخکښ ایت کښ ذکرشو ﴿يَسْـَٔلُوْنَكَ﴾ دا سوال په طریقه دَ استهزاء سره دے او ﴿السَّاعَةِ﴾ قیامت ته وئیلے شی اول دَ دے وجے نه چه ناګاه واقع کیږی دویم دَ دے وجے نه چه دَ حساب فیصله به کیږی په یوساعت کښ۔ دریم دَ دے وجے نه چه سره دَ اوګډوالی نه دَ اللّٰه تعالیٰ په نیزپشان دَ یوساعت دے ﴿عِنْدَ رَبِّيْ﴾ یعنی علم دَ وخت دَ ساعت اللّٰه تعالیٰ دَ ځان سره خاص کړیدے هیڅا ته ئے دغه علم نه دے ورکړے ﴿لِوَقْتِهَاۤ﴾ لام په معنیٰ دَ فی سره دے ﴿بَغْتَةً﴾ نه مراد غفلت دے دَخلقویعنی خلق به په خپلوکارونو کښ مشغول او غافل وی اګرچه دَ هغے علامات به راغلی وی۔ په دے ایت کښ تپوس دوه ځله ذکردے۔ دے دواړوکښ فرق دا دے چه اول تپوس په باره دَ وخت دَ قیامت کښ دے اودویم تپوس په باره دَ حقیقت اوتفصیل دَ قیامت کښ دے ﴿ثَقُلَتْ﴾ دَ دے یو معنیٰ دا ده چه دَ دے هیبت زیات دے په اسمانونو اوپه زمکے والوبله معنیٰ دا ده چه دَ دے علم پټ دے په اسمانونووالو اوپه زمکے والودَکوم ځیزچه علم پټ وی نودروندوی په نفس باندے ﴿حَفِيٌّ﴾ وئیلے کیږی تلاش کوونکی ته اودارنګ عالم ته مراد دا دے چه دوی په تاخیال کوی چه ته عالم ئیے په قیامت باندے نوځکه ستانه دَ هغے تپوسونه کوی۔

[۱۸۸]دا هم ترقی ده په جواب دَسوال مخکښ کښ چه څه ځان لره اختیارنه لرم دَنفعے او ضررنو دَ قیامت علم به څنګه اولرم په دے ایت کښ رد دَشرك فی التصرف اوشرك فی العلم دَپیغمبرنه دواړو دے۔ ﴿اِلَّا مَا شَآءَ اللّٰهُ﴾ دے ته استثناء منقطع وائي معنیٰ دا ده چه څه اللّٰه تعالیٰ اوغواړی هغه کیږی اوله وجه دا

اِلَيْهَا ۚ فَلَمَّا تَغَشّٰىهَا حَمَلَتْ حَمْلًا خَفِيْفًا فَمَرَّتْ بِهٖ ۚ فَلَمَّآ اَثْقَلَتْ دَّعَوَا اللّٰهَ رَبَّهُمَا لَئِنْ اٰتَيْتَنَا صَالِحًا لَّنَكُوْنَنَّ مِنَ الشّٰكِرِيْنَ ﴿۱۸۹﴾ فَلَمَّآ اٰتٰىهُمَا صَالِحًا جَعَلَا لَهٗ شُرَكَآءَ فِيْمَآ اٰتٰىهُمَا ۚ فَتَعٰلَى اللّٰهُ عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿۱۹۰﴾ اَيُشْرِكُوْنَ مَا لَا يَخْلُقُ شَيْـًٔا وَّهُمْ يُخْلَقُوْنَ ﴿۱۹۱﴾ وَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ لَهُمْ نَصْرًا

دَهغے سره پس هرکله چه پته ئے کړه هغے لره نوحمل ئے واخست حمل سپك پس تله راتله کوی سره دَهغے نه پس هرکله چه درنه شوه دُعا اوکړه دواړو دَ اللّٰه تعالیٰ نه چه رب دَ دوی دے که راکړو تا مونږ ته روغ موټ بچے خامخا شوبه مونږ دَشکر کزارونه (۱۸۹) پس هرکله چه ورکړو اللّٰه تعالیٰ دویته روغ موټ بچے نوجوړ کړل دوی اللّٰه تعالیٰ لره شریکان په هغه بچی کښ چه ورکړے ئے دے دویته پس لوئے دے اللّٰه تعالیٰ دَهغے نه چه دوی ورسره شریك جوړوی (۱۹۰) آیادوی شریکوی هغه چاڼه چه نه شی پیدا کولے هیڅ شے او دوی پیدا کړے شویدی (۱۹۱) اوطاقت نه لری(دا شریکان) دے (مشرکانولره) دَمدد کولو

ده چه دا استثناء په ایت(۲۱) کښ نیشته اومتصله استثناء لازماً ذکرکیږی بله وجه داچه مشیت دَاللّٰه تعالیٰ دَنفعے اوضررنه غیردے ﴿وَلَوْ كُنْتُ﴾ لَوپه عربئی کښ دپاره دَ نفی استعمالیږی یعنی ځه په غیب نه پوهیږم ځکه ماته تکلیفونه را رسیدلی دی په خیرحاصلولو کښ ﴿وَمَا مَسَّنِيَ السُّوْٓءُ﴾ دا جمله حال دے په طریقه دَ قید سره دپاره دَ ماقبل یعنی که علم دَغیب وے نومابه بے تکلیفه ډیرخیرحاصل کړے وے لیکن نبی ﷺ ډیرتکلیفونه تیرکړی دی۔

[۱۸۹] دا ایت تعلق لری دَ سورة دَ دویمے اودریمے دعوے سره اوپه ایت کښ نهمه زورنه ده هغه ښځے خاوندته چه هغوی اولاد دَ اللّٰه تعالیٰ نه غواړی اوهرکله چه اولاد ئے پیدا شی بیا دَ هغے نسبت دَ اللّٰه تعالیٰ نه سیوا بل چا ته کوی اوشرك کوی ﴿مِنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ﴾ دا سے په سورة نحل (۷۲) او روم (۲۱) کښ دی په معنیٰ دَ جنس سره نودلته هم په معنیٰ دَجنس سره دے او ایت دَ ابتداء نه دَ ټولوانسانانوسره تعلق لری اودا قول سمعانی دَ عکرمه نه نقل کړے دے۔ فائده: بعضو روایاتوکښ ذکر ده چه دا ایت په باره دَ آدم علیه السلام اوحواکښ دے ابن کثیرپه هغے باندے په تفصیل سره ردکړے دے اول دا چه عمربن ابراهیم ته ابوحاتم ضعیف وئیلے دے دویم دا چه دا دَ سمره نه موقوف نقل دے دریم دا چه حسن بصری دَ دے راوی دے اوهغه پخپله وئیلی دی چه دویم ایت کښ مراد اولاد ادم اوحوا دی او راوی چه دَ خپل روایت نه خلاف کوی نودا دلیل دے چه دغه حدیث مرفوع ثابت نه دے۔

[۱۹۰] اللّٰه تعالیٰ سره شریك جوړول په اولادکښ په یوخوطریقوسره دی یودا چه وائی چه دا اولاد مالره فلانکی ولی او بزرګ راؤبخلودویم دا چه دَ هغه نوم عبدالنبی یا بنده علی یا پیربخش وغیره کیږدی۔ بل داچه هغه اولاد نذرکړی په نوم دَ غیراللّٰه باندے اودا ټول اقسام دَ شرك حقیقی دی په دلیل دَ دے قول سره چه فتعالی اللّٰه عمایشرکون۔

[۱۹۱] دے ایت کښ او ورپسے ایت کښ رد دَ شرك فی الخالقیت دے یعنی مخلوق دَ خالق سره نشی شریك کیدلے لکه سورة نحل (۲۰) کښ هم دی۔

وَّلَآ اَنْفُسَهُمْ يَنْصُرُوْنَ ﴿۱۹۲﴾ وَاِنْ تَدْعُوْهُمْ اِلَى الْهُدٰى لَا يَتَّبِعُوْكُمْ ؕ سَوَآءٌ عَلَيْكُمْ اَدَعَوْتُمُوْهُمْ
اَمْ اَنْتُمْ صَامِتُوْنَ ﴿۱۹۳﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ عِبَادٌ اَمْثَالُكُمْ فَادْعُوْهُمْ فَلْيَسْتَجِيْبُوْا
لَكُمْ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۱۹۴﴾ اَلَهُمْ اَرْجُلٌ يَّمْشُوْنَ بِهَآ اَمْ لَهُمْ اَيْدٍ يَّبْطِشُوْنَ بِهَآ اَمْ لَهُمْ اَعْيُنٌ
يُّبْصِرُوْنَ بِهَآ اَمْ لَهُمْ اٰذَانٌ يَّسْمَعُوْنَ بِهَا ؕ قُلِ ادْعُوْا شُرَكَآءَكُمْ ثُمَّ كِيْدُوْنِ فَلَا تُنْظِرُوْنِ ﴿۱۹۵﴾

اونه دَخپلو ځانونو سره مدد کولے شی (۱۹۲) اوکه بلئے تاسو دے شرکاؤ لره لارخودنے ته دوی نشی رسیدے تاسوته برابرحال دے ستاسوکه بلئے تاسو دوی لره اوکه تاسو چُپ یئ (۱۹۳) یقیناً هغه کسان چه بلئے تاسو هغی لره(په حاجتونو کښ) سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه بندګان دی ستاسو پشان(محتاج دی) پس اوبلئے دوی نو دوی دِځه حاجت پوره کړی ستاسو که تاسوئے رشتینی (۱۹٤) آیا دوی لره خپے شته چه تلے شی په هغے سره آیا دَ دوی لاسونه شته چه ټینګول کولے شی په هغے سره آیا دَ دوی سترګے شته چه لیدل کوی په هغے سره آیا دَ دوی غوږونه شته چه اوریدل کولے شی په هغے سره؟ (نیشته) اُوایه راوبلئے شریکان خپل (دپاره دَ ضرر ځما) بیا چل ول اوکړئ ماسره پس مهلت مه راکوئ ماته (۱۹۵)

[۱۹۲] په دے کښ رد دے په شرك فی الاستعانت باندے ﴿وَلَآ اَنْفُسَهُمْ يَنْصُرُوْنَ﴾ یعنی دَخپل ځان نه هیڅ ضررمصیبت نشی دفع کولے په دے معبودانو باندے مرضونه تکالیف راځی مرګ پرے راځی خودوی ئے دَ ځان نه نشی دفع کولے که ځوك دَ دوی قبرونه ماتوی (یا دَ دوی قبرونه نړه وی) نودوی ئے مدافعت نشی کولے اوداسے وصف والامعبود نشی کیدلے۔

[۱۹۳] په دے ایت کښ او ورپسے ایت کښ رد دَشرك فی الدعا دے ﴿هُمْ﴾ ضمیر راجع دے معبود من دون اللّٰه ته ﴿اِلَى الْهُدٰى﴾ مراد دَ دے نه طلب دَ هدایت اودَ خیردے لکه چه دَ اللّٰه تعالیٰ نه طلب دَ خیراودَ هدایت کیدے شی اوهغه اجابت کوی لیکن دا معبودان هیڅ اجابت نشی کولے که بتان وی اوکه قبرونه وی۔ په دے ایت کښ بل قول دا دے چه هم ضمیر مشرکانو ته راجع دے اومراد دَ دے نه عنادیان مشرکان دی لیکن دا دَ سیاق دَکلام نه لرے تفسیردے۔

[۱۹٤] دا ایت ښکاره رد دے په هغے کسانوچه دَ بندګانوعبادت کوی که ژوندی وی اوکه مړه وی اودَ هغوی نه حاجتونه غواړی اوداسے په سورۃ کهف(۱۰۲)کښ هم دی نودا رد دے په مشرکین بالعباد باندے خصوصاً اشاره ده چه عبدیت منافی دے دَ معبودیت سره۔ اوکه مراد دَ دے نه بتان شی نوشربینی او رازی وئیلی دی چه مطلب دا دے چه تاسودا په شکل دَ انسانانو باندے جوړوئے نوکه دوی واقعی ژوندی انسانان شی ستاسوپشان نوهم ستاسوحاجت روائي نشی کولے ﴿فَادْعُوْهُمْ﴾ دا په طریقه دَ زورنے سره دے۔ نودَ دینه مراد صرف بتان نه دی۔

[۱۹۵] دے ایت کښ هم رد دے دَشرك فی التصرف اوبیان دَ عجزدَ دغه معبودانودے دپاره دَ تاکید دَ مخکښ ایت په نفی کولودَ ځلوروطاقتونوسره چه دَ دوی په څوکښ طاقت دَ رسیدونیشته اولاسونوکښ ئے طاقت دَ راټینګولونیشته اوپه سترګوکښ ئے طاقت دَ لیدلونیشته اوپه غوږونوکښ ئے طاقت دَ اوریدلونیشته بیا ولے دوی ته را مدد شه وائیے۔ په دے کښ نفی دَ قید ده فقط ځکه چه دَ معبودانودَ

اِنَّ وَلِيِّۦَ اللّٰهُ الَّذِىْ نَزَّلَ الْكِتٰبَ ۖ وَهُوَ يَتَوَلَّى الصّٰلِحِيْنَ ﴿۱۹۶﴾ وَالَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ لَا
يَسْتَطِيْعُوْنَ نَصْرَكُمْ وَلَآ اَنْفُسَهُمْ يَنْصُرُوْنَ ﴿۱۹۷﴾ وَاِنْ تَدْعُوْهُمْ اِلَى الْهُدٰى لَا يَسْمَعُوْا ۭ وَتَرٰىهُمْ
يَنْظُرُوْنَ اِلَيْكَ وَهُمْ لَا يُبْصِرُوْنَ ﴿۱۹۸﴾ خُذِ الْعَفْوَ وَاْمُرْ بِالْعُرْفِ وَاَعْرِضْ عَنِ الْجٰهِلِيْنَ ﴿۱۹۹﴾ وَاِمَّا

یقیناً بچ کوونکے ځما الله تعالیٰ دے هغه ذات چه نازل کړے ئے دے کتاب (په مسئلے دَ توحید سره) اوهغه بچ کوی ټولو نیکانولره (۱۹۶) اوهغه کسان چه رامدد شه وائے تاسو هغی ته سیوا دَ الله تعالیٰ نه نه لری طاقت دَمدد کولو ستاسو اونه دَځپلو ځانونو سره مدد کولے شی (۱۹۷) اوکه رابلئ تاسو هغی څه دَخیر خودلوته دوی نه اوری اوخیال کوے ته په دوی باندے چه ګوری تاته حال دا دے چه دی هیڅ نه وینی (۱۹۸) خوئی اوګرځوه په معافئ کولو او بیان کوه دَتوحید اومخ اړه وه دَجاهلانونه (۱۹۹) اوکه

دوی خودا اندامونه شته دے که بتان وی نوهم ورله عابدانوجوړ کړی دی اوکه مړه وی نوهم دَ هغوی اعضاء خوشته دے په دے شرط چه خاورے شوی نه وی نونفی دَ مقید دلته مراد نه ده او هرکله چه مددکولو دپاره دا ځلورقوتونه ضروری دی نودَ هغے ذکرئیے اوکړو ﴿قُلِ ادْعُوْا شُرَكَآءَكُمْ﴾ دا جواب دے دَ سوال دَ مشرکینوچه هغوی وائي چه دا خبرے مه کوه ګنی دامعبودان به درته ټکره اورسوی نو جواب اوشوچه دے را وبلئی ماته دَ ضرر رسولو دپاره اوتاسوهم ورسره ملګری شئے اومالره مهلت مه راکوئے ځه نه یریږم۔

[۱۹۶] دا علت دے دَ دے خبرے چه مؤحد دَ غیرالله نه یره نه کوی او وائي چه بچ کوونکے زما هغه الله تعالیٰ دے چه قرآن ئیے په دے مسئله رالیږلے دے اشاره ده چه قرآن بیان کوونکے اوتوحیدته دعوت ورکوونکے دَ صالحینونه دے اوالله تعالیٰ دَ مؤحدینوامدادکوی۔

[۱۹۷] دا هم رد دَ شرك فی الدعاء دے چه دا معبودان طاقت دَ هیڅ مددکولونه لری نوولے دوی ته رامدد شه وائیے دلته ﴿لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ﴾ دلیل دے دپاره دَ رد دَ شرك فی الدعاء اوپه (۱۹۲) کښ دلیل دَ رد دَمطلق شرك یا رد دَ شرك فی التسمیه وؤ۔

[۱۹۸] دا هم رد دَ شرك فی الدعاء دے چه دا معبودان نه ستاسوحال وینی نه ستاسو خبرے اوری نو ولے دوی ته را مددشه وائیے ﴿الْهُدٰى﴾ مراد دَ دینه دَ خیراوفائدے خبره ده ﴿وَتَرٰىهُمْ يَنْظُرُوْنَ﴾ که ایت دَ بتانوپه باره کښ شی نوهغوی خوبتانو لره سترګے جوړے کړے وے ځکه وائي ﴿تَرٰىهُمْ﴾ اوکه مراد ترینه مړے شی نوترٰهم خطاب دے مشرك ته او رویت په معنیٰ دَ عقیدے دے یعنی عقیده دَ مشرکانوچه دا مړی مونږه وینی اومونږ ته حاضراوناظردی۔

[۱۹۹] روستودَ رد نه په مشرکانوباندے ذکرکوی طریقه دَ ردکولو، دَ دے ایت نه تر اخره دَ سورة پورے لس اداب بیانوی دپاره دَ مبلغ دَ حق اوپه دے ایت کښ درے اداب ذکردی ﴿خُذِالْعَفْوَ﴾ خُذِنه مراد په عمل کښ راویستل دی ابن کثیراوابن جریروئیلی دی چه دَ دے نه مراد معافی کول دَ مشرکانودی کله چه هغوی سب اوشتم اوظلم کوی نودَ مؤمنانونه عفوکول خوپه طریقه اولیٰ سره داخل دی ﴿الْعُرْفِ﴾ په معنیٰ دَ معروف سره ټولوطاعاتوته شامل دے یعنی سرهٔ دَ معافئی کولودَ ظلم اوسختئی نه دَ معروف بیان کوه اودَ بیان نه روستوکه هغه بیا ضد اوجهل کوی نواَعرِضْ یعنی دَ جاهلانوجواب په جهل سره مه

يَنْزَغَنَّكَ مِنَ الشَّيْطٰنِ نَزْغٌ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ ؕ اِنَّهٗ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿٢٠٠﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا اِذَا
مَسَّهُمْ طٰٓئِفٌ مِّنَ الشَّيْطٰنِ تَذَكَّرُوْا فَاِذَا هُمْ مُّبْصِرُوْنَ ﴿٢٠١﴾ وَاِخْوَانُهُمْ يَمُدُّوْنَهُمْ فِي الْغَيِّ ثُمَّ
لَا يُقْصِرُوْنَ ﴿٢٠٢﴾ وَاِذَا لَمْ تَاْتِهِمْ بِاٰيَةٍ قَالُوْا لَوْلَا اجْتَبَيْتَهَا ؕ قُلْ اِنَّمَآ اَتَّبِعُ مَا يُوْحٰٓى اِلَيَّ مِنْ رَّبِّيْ ۚ
هٰذَا بَصَآئِرُ مِنْ رَّبِّكُمْ وَهُدًى وَّرَحْمَةٌ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿٢٠٣﴾ وَاِذَا قُرِئَ الْقُرْاٰنُ فَاسْتَمِعُوْا

اورسی تاته دَطرف دَشیطان نه څه وسوسه (دَغصه کیدلو) پس پناهی اوغواړه په اللّٰه تعالیٰ سره یقیناً هغه هرڅه اوری پوهه دے په هرڅیز (۲۰۰) یقیناً هغه کسان چه پریږی دَ اللّٰه تعالیٰ نه کله چه اورسی دوی ته څه وسوسه دَشیطان نه نویادکړی دوی اللّٰه تعالیٰ لره پس دغه وخت کښ دوی پوهیدونکی وی (۲۰۱) او رونړه دَ دے شیطانانو راکاږی هغی لره شیطان په سرکشئی کښ بیا دوی کمے نه کوی (په ګمراهی کښ)(۲۰۲) اوکله چه رانه وړے ته دویته یوآیت(چه دوی ئے غواړی) دوی وائی ولے دَڅان نه نه جوړوے دا ته ورته اووایه یقیناً څه خوتابعداری کوم دَهغے چه وحی کیږے شی ماته دَ طرف دَرب څمانه دا قرآن دَپوهے خبرے دی دَطرف دَرب ستاسونه اوهدایت اورحمت دے هغے قوم لره چه ایمان لری (۲۰۳) اوکله چه لوستے شی قرآن پس غوږ کیدئے

ورکوه بلکه په سورة فرقان(٦٢) باندے عمل کوه۔

[۲۰۰] دا څلورم ادب دے کله که مبلغ له غصه راشی دَ وجے دَ عمل دَ جاهلانونه نواعوذ باللّٰه دِ اووائي اودا سے په سورة حم سجده (۳٦) کښ هم دی ﴿سَمِيْعٌ﴾ کښ اشاره ده چه اعوذ باللّٰه په ژبه سره وئیلے شی او﴿عَلِيْمٌ﴾ کښ اشاره ده چه په زړه کښ به دَ هغے عقیده اوعلم لری۔ شربینی لیکلی دی چه صرف لفظی ذکرفائده نه ورکوی بغیرد معرفت قلبیه نه۔

[۲۰۱] هرکله چه نزع دَشیطان ذکرشوه دلته اوس دَهغے عموم ذکرکوی اودوه قسمونه دَ انسانانوذکرکوی ﴿طٰٓئِفٌ﴾ په معنیٰ دَ غضب اودَ ارادے دَګناه اوګناه کول اودَ پیریانوحمله کول دی په دے ټولومعانوسره راځی ﴿تَذَكَّرُوْا﴾ یادکړی وعد اووعید دَ اللّٰه تعالیٰ یا یاد کړی استعاذه وئیل۔ په دے ایت کښ پنځم ادب ذکردے په لفظ دَ تذکروا سره۔ اواشاره ده دے ته چه شیطان غلبه نه شی کولے په متقیانوباندے۔

[۲۰۲] دے ایت کښ ذکردے چه څوك دَشیطان تابعداری کوی نودے دَهغه رووړے اودا دویمه ډله ده دَشیطان ملګری دی غاویان دی په مقابله دَ متقیانو کښ﴿لَا يُقْصِرُوْنَ﴾ ضمیرشیطانانویا اخوان ته راجع دے یعنی شیطانان په وسوسو کولو کښ اواخوان دَ هغوی په ګناه کولو کښ قصور اوکمے نه کوی۔

[۲۰۳] دے ایت کښ ذکردَګمراهئی دَ هغوی دے چه دوی ایتونه اومعجزے دَ پیغمبرخود ساخته ګنړی دَ دے وجے نه دَ هغه نه دَ جوړولوطلب کوی بیا په دے ایت کښ شپږم ادب ذکر دے په قل اه سره۔ ﴿هٰذَا بَصَآئِرُ﴾ دا تفسیردے دَ مایوحیٰ اِلیّ دپاره اواشاره ده که ستاسوغوختلے شوے معجزه را نوړم نوڅه حرج نیشته ځکه چه قرآن کافی معجزه ده۔ بَصآئِرُمراد دَ دینه داسے حجتونه اودلیلونه دی چه دَعقل دپاره بصیرت پیداکوی نودا تسمیه دَ سبب ده په اسم دَ مسبب سره۔ فائده اخستونکی دَ قرآن نه درے قسمه دی

لَهٗ وَ اَنْصِتُوْا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴿۲۰۴﴾ وَ اذْكُرْ رَّبَّكَ فِيْ نَفْسِكَ تَضَرُّعًا وَّ خِيْفَةً وَّ دُوْنَ الْجَهْرِ

هغے ته اوچپ شئ دے دپاره چه په تاسو رحم اوکړیشی (۲۰۴) اویادوه رب خپل په زړه خپل کښ په عاجزئ اوپه یرے سره اوښکته دَ جهری (اوچتے)

اول چه مرتبه دَ عین الیقین کښ وی نودَ هغوی دپاره بصآئردے۔ دویم چه علم الیقین والاوی نودَ هغوی دپاره هدٰی دے اودریم چه حق الیقین والا وی نودَ هغوی دپاره رحمت دے۔

[۲۰۴] دے کښ دوه اداب ذکردی اووم اتم په وخت دَ لوستلودَ قرآن کښ یعنی قاری له پکاردی چه اوریدونکوته دا ادب بیان کړی اوصحیح دا ده چه دا ایت عام دے۔ مونځونواوخطبوته شامل دے دارنګ عام اوقاتو کښ چه قرآن لوستلے کیږی نودا ادب واجب دے۔

فائده: استماع اوریدل دی په قصد اوپه ارادے سره اوسماع عام دے که قصد وی اوکه نه وی او انصات پریښودل دَ نورو مشاغلوته وائي۔ په ایت کښ دوه بحثونه دی۔ اول بحث په باره دَ نزول اوخطاب دَ دے ایت کښ، امام رازی پدے کښ ډیراقوال ذکرکړی دی اول داچه دا ایت په خپل عموم باندے جاری دے په هر وخت کښ چه یوانسان قرائت دَ قرآن کوی نوپه هرچا باندے دَ هغے او ریدل واجب دی که په مونځ کښ وی یا خطبه کښ یا درس دَ قرآن وی تردے پورے چه شامی لیکلی دی۔ یکره ان یقروالقرآن جملة واحدة اه۔ یعنی ډیرکسان چه یوځائے دَ قرآن قرائت په اوچت اوازسره کوی (لکه ختمیان) نودا مکروهه کاردے۔ دویم قول دا دے چه دا نازل شوے دے په رد دَ خبروکولوکښ په مانځه کښ دریم قول دا دے چه دا نازل شویدے په باره دَ منع کولودَ سلامونونه په یوبل باندے په مانځه کښ څلورم قول دا چه دا نازل شویدے په باره دَخطبه کښ پنځم قول دا دے چه دا نازل شویدے په باره دَ قرائت خلف الامام کښ اودا اقوال ابن جریراوابن کثیرهم ذکرکړیدی۔ اوشپږم قول دا دے چه دا خطاب دے کافرانو ته اودَ رحم نه مراد حصول دَ هدایت دے۔ اوامام رازی داقول غوره کړیدے۔ سوال: امام احمد وئیلی دی چه په اجماع سره ثابت ده چه دا ایت په باره دَ صلوٰة کښ دے؟ جواب: امام زیلعی دَ دے هیڅ سند نه دے ذکرکړے اودا رنګ بیهقی په هیڅ کتاب باندے حواله نه ده ورکړے اوبله وجه دا چه ابن کثیرپه ډیرو سندونوسره نوراقوال (چه مخکښ ذکرشویدی) راوړی دی نواجماع په یوقول باندے څنګه ثابته شوه۔هاں اعتبارعموم دَ لفظ لره وی نه خصوص دَ سبب لره اوکله ایاتونه نازل شوی دی په باره دَکافرانوکښ اوهغے نه مؤمنانوپه باره کښ استدلال کیدے شی لکه ایت ان الذین یکتمون اه په باره دَ یهودوکښ دے لیکن شامل دے هغه مسلمانانوعلماؤته چه بعض حق مسئلے پټوی۔ دویم بحث: ایادَ دے ایت استدلال په منع دَ قرائت خلف الامام سره صحیح دے اوکه نه؟ جواب دا استدلال ضعیف دے په ډیرو وجوسره اوله وجه داده چه دَ ایت مطلب دا دے چه په امام پسے په اوچت اوازسره قرائت مه کوئے ځکه هغه دَ استماع اودَ انصات سره منافی دے اوقرائت په پټه سره دَ استماع اوانصات سره هیڅ منافات نه لری اوتائید دَ دے دا دے چه صاحب هدایه په باب دَخطبه دَ جمعے کښ وئیلی دی چه استماع اوانصات خطبے ته واجب دے لیکن کله چه خطیب اولولی یا ایهاالذین امنوا صلوا علیه وسلموا تسلیما نو اوریدونکے دے

مِنَ الْقَوْلِ بِالْغُدُوِّ وَالْاٰصَالِ وَلَا تَكُنْ مِّنَ الْغٰفِلِيْنَ ﴿٢٠٥﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ عِنْدَ رَبِّكَ لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ عَنْ عِبَادَتِهٖ وَيُسَبِّحُوْنَهٗ وَلَهٗ يَسْجُدُوْنَ ﴿٢٠٦﴾ السجدة ع

وینا نه صبائی اوبے ګائیی اومه کیږه دَ غفلت کوونکونه (۲۰۵) یقیناً هغه کسان چه نزدے دی رب ستاته لوئی نه کوی دَهغه دَبندګیٔ نه اوپاکی وائی هغه لره اوخاص هغه لره سجدے کوی (۲۰۶)

په پټه درود اووائي۔ کفایه کښ وئیلی دی چه په ژبه سره دِپټ اووائي نودا پټ وئیل په ژبه سره دَ استماع اوانصات سره منافی نه دی که نه دے فقهاؤبه دَ هغے اجازت نه ورکولے دویمه وجه دا ده چه مقتدی قرائت کوی په سکتاتودَ امام کښ لکه چه امام ترمذی په ذکردَ مذهب دَ اصحاب الحدیث کښ وئیلی دی اوامام بخاری په جزء القراءة کښ وئیلی دی چه په اوله سکته کښ دِ قرائت اوکړی۔ دریمه وجه دا ده چه دا ایت اګر چه سورة فاتحه ته شامل اوعام دے لیکن په احادیثو دَ لاصلوٰة سره دا خاص کړے شویدے۔

[۲۰۵] دے ایت کښ هم دوه اداب ذکردی نهم اولسم اودَ ذکردَ رب دوه طریقے ئیے ذکرکړے دی یو ﴿فِيْ نَفْسِكَ﴾ په زړه کښ ذکرکول بغیردَ حرکت دَ ژبے نه اودا اخفیٰ ذکردے اورازی او الوسی وئیلی دی چه فی نفسك کښ اشاره ده چه عالم به وی په معنیٰ دَ ذکرباندے نوذکرلسانی بغیردَ علم دَ معنیٰ نه ثواب نه لری دویم ﴿وَدُوْنَ الْجَهْرِ﴾ په ژبه ذکرکول په پټه دَ ابن عباس ﷺ نه روایت دے چه داسے دِ وائي چه ځان ته ئیے اوری۔ دا ایت دلیل دے چه اصل په ذکرونوکښ پټ والے دے ځوپورے چه خاص دلیل شرعی نه وی نواوچت ذکرکول بدعت دے ﴿بِالْغُدُوِّ وَالْاٰصَالِ﴾ مراد دَ دے نه هروخت دے لیکن تخصیص دَ دے دوه وختونودَ ځووجونه ئیے کړے دے اوله وجه دا ده چه وخت غداة وخت دَ بیدارئے دے او وخت دَ اصال وخت دَ راتللودَ خوب دے نواشاره ده چه ابتداکول دَ بیدارئے اودَ خوب په ذکردَ اللّٰه تعالیٰ سره پکار ده۔ دویمه وجه داده چه په دے دَوه وختونوکښ عملونه دَ ورځے اودَ شپے بره ورخیژی نوپه دغه وختونوکښ کثرت ذکرپکار دے۔

[۲۰۶] دے ایت کښ مقصد ترغیب دے مبلغ ته په بیان دَ حال دَ مقربینوسره چه دا درے صفات لری یوصفت دَ زړه دے او دویم دَ ژبے دے اودریم دَ اندامونودے۔

سُوْرَةُ الْاَنْفَالِ (٨) مَدَنِيَّةٌ (٨٨) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ٧٥ رُكُوْعَاتُهَا ١٠

يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الْاَنْفَالِ ؕ قُلِ الْاَنْفَالُ لِلّٰهِ وَالرَّسُوْلِ ۚ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَصْلِحُوْا ذَاتَ بَيْنِكُمْ ۪ وَاَطِيْعُوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗۤ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ۝١ اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِيْنَ اِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ وَجِلَتْ قُلُوْبُهُمْ وَاِذَا تُلِيَتْ

تپوس کوی دوی ستانه په باره دَغنیمتونو کښ ته اُوایه (اختیار) دَغنیمتونو اللّٰه تعالیٰ اورسول لره دے پس یره کوئ دَ اللّٰه تعالیٰ نه اوجوړساتئ تعلق دَمینځ خپل اوتابعداری کوئ دَ اللّٰه تعالیٰ او دَرسول دَ هغه ځکه چه تاسو مؤمنان ئے (۱) یقیناً مؤمنان هغه کسان دی چه کله یادکړیشی اللّٰه تعالیٰ اویریږی زړونه دَ دوی او کله چه لوستلے کیږی

سورة الانفال

ربط: دَ دے سورة د مخکښ سورة سره دا دے چه مخکښ سورة کښ تشجیع وه په بیان دَ مسئلے سره په ژبه باندے اوپه دے سورة کښ ترغیب دے قتال ته دپاره دَ اشاعت دَ مسئلے دَ توحید۔

دعوے دَ دے سورت: دوه دی اوله دا چه په غنیمتونو کښ خپل اختیار مه چلوئے بلکه دَ اللّٰه تعالیٰ اودَ رسول اللّٰهﷺ دَ حکم موافق ئے تقسیموئے په (۱) اوپه (٤١) کښ۔ دویمه دعویٰ امر دے په قتال فی سبیل اللّٰه سره۔

خلاصه دَ سورت: په دے سورة کښ دیارلس علتونه دی دَ اولے دعوے دپاره او دیارلس قوانین دی دَ دویمے دعوے دپاره او دیارلس کلمات دَ توحید دی اودیارلس اسماء حسنیٰ دی۔

تفصیلی خلاصه دا ده: پدے سورة کښ دوه حصے دی په اوله حصه کښ دوه بابونه دی او دا ترځلویښتم ایت پورے ده اول باب تر نورلسم ایت پورے دے په دے کښ اوله دعویٰ ده بیا پنځه صفات دَ مؤمنانومجاهدینو دی بیا علتونه دی دَ اولے دعوے اویو قانون دے دَ قتال دپاره۔

فائده: په دے سورة کښ حالات دَ غزوه بدر دی چه هغه په دویم کال دَ هجرت دَ رمضان په میاشت کښ وه په هغے کښ درے سوه دیارلس صحابه کرام وواوتقریباً (۱۰۰۰) زرکسان کافران ووپه دے غزاکښ مؤمنانو فتح حاصله کړه اوډیرغنیمتونه ئے په لاس کښ راغلل هرکله چه دَ غنیمتونوپه باره کښ دَ دے نه مخکښ حکم شرعی نه وؤنودَ دے وجے دَ دوی په مینځ کښ اختلاف راغے یوډله وه چه هغوی جنګ کړے وؤهغوی وئیل دا زمونږحق دے اودویمه ډله چه هغوی دَ جنګ کوونکونه روستو ولاړ وو په نیت دَ امداد کولو هغوی وئیل په دے کښ زمونږ هم حصه ده او دریمه ډله چه هغوی دَ رسول اللّٰهﷺ حفاظت کولو نوهغوی هم دَ حصے دعویٰ کوله نو اللّٰه تعالیٰ په دے اول ایت کښ او فرمائیل چه تقسیم دَ غنیمتونوستاسوپه اختیارکښ نه دے نودَکورنئے دَ اختلاف نه ځان اوساتئے اودَ اللّٰه تعالیٰ او دَ هغه دَ رسول دَ حکم مطابق ئے تقسیموئے اوتفصیل دَ دے به دَ دے سورة په ایت یوځلویښتم کښ راشی۔

تفسیر

[۱] ﴿اَلْاَنْفَالِ﴾ دا جمع دَ نفل ده او نفل زیاتی ته وائی اشاره ده دیته چه مقصد دَ جهاد اِعلاء دَ کلمة

عَلَيْهِمْ اٰيٰتُهٗ زَادَتْهُمْ اِيْمَانًا وَّعَلٰى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ ۝٢ الَّذِيْنَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَمِمَّا
رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ۝٣ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ حَقًّا ؕ لَهُمْ دَرَجٰتٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَمَغْفِرَةٌ وَّرِزْقٌ كَرِيْمٌ ۝٤
كَمَآ اَخْرَجَكَ رَبُّكَ مِنْۢ بَيْتِكَ بِالْحَقِّ ۖ وَاِنَّ فَرِيْقًا مِّنَ الْمُؤْمِنِيْنَ لَكٰرِهُوْنَ ۝٥ يُجَادِلُوْنَكَ فِي

په دوی باندے آیتونه دَهغه نوزیاتوی ایمان دَ دوی اوخاص په خپل رب باندے ځان سپاری دوی (۲) دا هغه کسان دی چه پابندی کوی دَمانځه او دَهغه مال نه چه ورکړیلے مونږ دویته خرچ کوی (په لارد الله تعالیٰ کښ)(۳) دغه کسان خاص دوی مؤمنان دی یقیناً دوی دپاره دیرے درجے دی په نیز دَرب دَ دوی اوبخنه ده اورزق عزتمند دے(٤) ځکه چه ویستلے ئے ته رب ستا دَکور ستا نه په حکمت سره اویقیناً یوه ډله دَ ایمان والونه خامخا خفه وو(طبعاً) (٥) بحث کؤو دوی تاسره په باره

الله ده۔ غنیمت نه دے دویمه اشاره ده دیته چه په نفل څیزکښ اختلاف جوړول نه دی جائز۔ اوپه دے ایت کښ پنځه اداب دی ﴿لِلّٰهِ وَالرَّسُوْلِ﴾ یعنی حکم دَ غنیمت خاص دے په الله تعالیٰ او رسول الله ﷺ پورے الله تعالیٰ امرکوی او رسول ئے تقسیم کوی په امردَ الله تعالیٰ سره اوتقسیم دَ دے بل چا ته نه دے سپارلے شوے﴿اِنْ كُنْتُمْ﴾ اِن وئیلے شوے دے دَ دیرترغیب دپاره یا اِن په معنیٰ دَ اذسره دے۔

[۲،۳] په دے ایتونوکښ ذکردَ صفاتودَ مجاهدینودے چه دَ دے اول مصداق صحابه کرام وؤ اودا پنځه صفات دی اول درے صفات عبادت قلبی دی اوځلورم عبادت بدنی دی اوپنځم عبادت مالی دی۔ سوال: په دے ایت کښ فرمائیلی دی چه په وخت دَ ذکردَ الله تعالیٰ زړونه رپیږی اوسورة رعدکښ فرمائیلی دی په ایت (۲۸)کښ چه په ذکردَ الله تعالیٰ سره اطمینان دَ زړه حاصلیږی نوپه دے کښ څه تطبیق دے؟ جواب دا دے چه یریدل دَ زړونوپه هغه وخت کښ دی چه ذکرشی عذابونه دَ الله تعالیٰ اواطمینان دَ زړونوپه هغے وخت کښ دے چه ذکرشی ثوابونه دَ الله تعالیٰ﴿زَادَتْهُمْ اِيْمَانًا﴾ ابن قیم بدائع الفوائد کښ وئیلی دی چه ایمان دوه قسمه دے یوایمان مطلق دے چه هغه صرف یقین دَ زړه دے په هغے کښ زیاتوالے یا نقصان راتلل اختلافی مسئله ده صحیح دا ده چه په هغے کښ زیادت او نقصان راځی۔ او دویم ایمان مقید دے یقین سره دَ عمل نه نوپه هغے کښ زیاتے کمے راتلل په سبب دَ زیاتوالی دَ علم اودَ نقصان دَ عمل اتفاقی خبره ده لیکن څوك دَ هغے نه په زیادت سره تعبیرکوی اوځوك په پوخ والی سره تعبیرکوی اوداسے په سورة توبه (۱۲٤)کښ هم دی﴿يَتَوَكَّلُوْنَ﴾ په توکل کښ رجا (امید سائل) اوپناهی طلب کول اوحاجات غوښتل اورغبت کول ټول داخل دی چه داخاص دی په الله تعالیٰ پورے (ابن کثیر)اودا درے واړه صفتونه قلبی دی او روستودوه صفتونه عملی ظاهری دی ۔ ظاهر دا ده چه په دے ایت کښ دویم قسم ایمان مراد دے۔

[٤] حق دَ مؤمن دیته وائي چه ظاهر او باطن په ایمان کښ برابر وی او دیته کمال ایمان وائي اوپه دے ایت کښ زیرے دے دپاره دَ مجاهدینوپه پنځه طریقوسره۔

[٥] دَ لفظ دکَمَا په تعلق کښ دَ مفسرینوډیراقوال دی۔ لیکن غوره قول پکښ دا دے چه دا(ك) دپاره دَ علت دے دا بحرمحیط کښ ذکردی اودا متعلق دے دَ جملے الانفال لِلّٰه والرسول سره یعنی دا اول علت دے

الْحَقِّ بَعْدَ مَا تَبَيَّنَ كَاَنَّمَا يُسَاقُوْنَ اِلَى الْمَوْتِ وَهُمْ يَنْظُرُوْنَ ۝٦ وَاِذْ يَعِدُكُمُ اللّٰهُ اِحْدَى
الطَّآئِفَتَيْنِ اَنَّهَا لَكُمْ وَتَوَدُّوْنَ اَنَّ غَيْرَ ذَاتِ الشَّوْكَةِ تَكُوْنُ لَكُمْ وَيُرِيْدُ اللّٰهُ اَنْ يُّحِقَّ
الْحَقَّ بِكَلِمٰتِهٖ وَيَقْطَعَ دَابِرَ الْكٰفِرِيْنَ ۝٧ لِيُحِقَّ الْحَقَّ وَيُبْطِلَ الْبَاطِلَ وَلَوْ كَرِهَ الْمُجْرِمُوْنَ ۝٨

دَجنګ کښ پس دَهغے نه چه بښکاره شو (فرض کیدل دَهغے) ګویا که بوتللے کیدل دوی مرګ ته او دوی ورته کتل(٦) اوکم وخت چه وعده اوکړه تاسو سره اللّٰه تعالیٰ دَیو دَ دوو ډلونه چه دابه ستاسو د پاره وی اوتاسو غوښته چه دا بے وسلے ډله دِ ستاسو دپاره شی اوغوښته اللّٰه تعالیٰ چه بښکاره کړی حق لره په وعدو خپلو سره اوپریکړی جړے دَکافرانو(٧) دے دپاره چه غالب کړی حق لره او ختم کړی باطل لره اګر چه بدګنړی مجرمان خلق (٨)

دَاولے دعوے دپاره ـ حاصل دَ هغے دا دے چه په ورځ دَ بدرد قتال دپاره راوتل ستاسودَ طبیعت نه خلاف ووليكن اللّٰه تعالیٰ را اویستے اوغنیمتونه ئے درکړل نوپه هغے کښ ولے اختلاف کوئے اوپدے ایت کښ مراد دَ کراهت نه کراهت طبعی غیر اختیاری دے دا قول دَ مبرد دے تقدیردَ عبارت دا دے قل الانفال لِلّٰه والرسول وان کَرِهوا کما کانوا یکرهون الخروج یاکاف په معنیٰ دَ واوسره دے ﴿بِالْحَقِّ﴾ په معنیٰ دَ حکمت یا په معنیٰ دَ جهاد سره دے (مدارك او كبير)۔

[٦] دَ جدال نه مراد بحث کول دی جګړه نه ده مراد اوهغه صرف دا قول وؤ دَ دوی چه دوی وئیل رسول اللّٰه ته که تا مخکښ مونږ لره خبرد قتال راکړے وے نومونږ به ځان پوره تیارکړے وے ﴿تَبَيَّنَ﴾ یعنی دوی ته واضح ده چه اللّٰه تعالیٰ دَ خپل نبی مدد کوی اودارنګ نبی چه څه وائي نوپه وحی سره وائي﴿كَاَنَّمَا يُسَاقُوْنَ﴾ دا مثال دَکراهت دے نودَکارهون سره متعلق دے او دا دلیل دے چه داکراهت طبعی وؤ یا متعلق دے دَ ﴿يُجَادِلُوْنَكَ﴾ سره اوپه عبارت کښ تقدیردے یخافون کانهم یساقون اه۔

[٧] دا دویم علت دے دَ اولے دعوے دپاره حاصل ئے دا دے چه اللّٰه تعالیٰ دوی ته په خوب کښ ښودلی وؤ چه دَکافرانوپه یوه ډله باندے مونږه غلبه حاصله کړے ده لیکن دوی دا غوښتله چه هغه ډله "قافله دَ ابوسفیان دِ وی" لیکن اللّٰه تعالیٰ هغه ډله لښکردَ ابوجهل اوګرځوؤ اومؤمنانولره ئے په هغے غلبه ورکړه نوفرمائي چه تاسوپه غنیمت کښ ولے اختلاف کوئے ﴿اَنَّهَا لَكُمْ﴾ یعنی دَ دوی مالونه تاسوته حاصلیږی اوتاسوبه وربانده غالب ئے ﴿الشَّوْكَةِ﴾ اسلحه اوقوت ته وئیلے شی شوکت په لغت کښ ازغی ته وئیلے شی ﴿ذَاتِ الشَّوْكَةِ﴾ نه مراد لشکردَ ابوجهل وؤ اودَ غَيْرَ نه مراد قافله دَ ابوسفیان وه ﴿وَيُرِيْدُ اللّٰهُ﴾ دا په معنیٰ کښ علت دے دَ پټ عبارت دپاره یعنی اراد اللّٰه ذَاتَ الشَّوكَة لكم لِاَنَّه یرید اه ﴿لِيُحِقَّ الْحَقَّ﴾ مراد دَ دے نه بښکاره کول اوپخول دَ دین حق دی﴿بِكَلِمٰتِهٖ﴾ ایاتونه په باره دَ قتال کښ یا وعدے دَ نصرت دَ اللّٰه تعالیٰ ﴿دَابِرَالْكَافِرِيْنَ﴾ اشاره ده چه ابوجهل او هغه کافران کسان چه په بدرکښ قتل کړے شوی وؤ دا جړے او بیخ وؤ دَکفرونودَ هغوی په قتل سره دَکفرجړے پریکړے شوے۔

فائده: دَ غزوه بدرپه وخت کښ یوقافله دَ ابوسفیان وه چه دَ تجارت دپاره شام ته تلے وه او واپس راتلل دَ مدینے منورے په خواکښ په ساحل دَ سمندر باندے اوهغوی سره سامان دَ تجارت وؤ اوسامان دَ جنګ ورسره

اِذْ تَسْتَغِيْثُوْنَ رَبَّكُمْ فَاسْتَجَابَ لَكُمْ اَنِّيْ مُمِدُّكُمْ بِاَلْفٍ مِّنَ الْمَلٰٓئِكَةِ مُرْدِفِيْنَ ۝٩ وَمَا
جَعَلَهُ اللّٰهُ اِلَّا بُشْرٰى وَلِتَطْمَئِنَّ بِهٖ قُلُوْبُكُمْ ۚ وَمَا النَّصْرُ اِلَّا مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ۭ اِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ
حَكِيْمٌ ۝١٠ اِذْ يُغَشِّيْكُمُ النُّعَاسَ اَمَنَةً مِّنْهُ وَيُنَزِّلُ عَلَيْكُمْ مِّنَ السَّمَاۗءِ مَاۗءً لِّيُطَهِّرَكُمْ بِهٖ ع ١٥

کوم وخت چه فریاد کوو تاسو رب خپل ته پس قبوله ئے کړه دُعا ستاسو چه مُحه امداد کوم ستاسو سره په زر(۱۰۰۰) ملائکوسره چه راځی به یوبل پسے (۹) اونه دی ګرځولی اللّٰه تعالیٰ (داملائك رالیږل) مګر زیږے او دے دپاره چه کلك شی په دے سره زړونه ستاسو اونه ده غلبه مګر دَطرف دَاللّٰه تعالیٰ نه ده یقیناً اللّٰه تعالیٰ زورور دے حکمت والا دے (۱۰) کم وخت چه پټ کړئ تاسو اللّٰه په پرکالئے سره دَ امن دپاره دَطرف دَهغه نه او را اوړولے ئے په تاسو باندے دَطرف دَآسمان نه اوبه دے دپاره چه پاك کړی تاسو په هغے سره

نه وؤ نودوی ته غیروئیلے شی او دویمه ډله لښکرد ابوجهل وؤ چه پوره تیاری ئے کړے وه دپاره دَ جنګ، اومقام دَ بدرته دَ جنګ دپاره را او رسیدل اودوی سره اسلحے دَ جنګ ډیرے وے اودوی ته نفیر وئیلے شے۔

[۸] دا ایت تعلق لری دَ دے لفظ سره چه ﴿وَيَقْطَعَ﴾ یعنی جړے دَکافرانودَ دے فائدے دپاره پریکوی چه حق غالب شی او باطل مغلوب شی۔ سوال: یحق الحق اه کښ تکرار ولے شوے دے؟۔ جواب: دا تکرارنه دے بلکه علت دے دپاره دَ فرضیت دَ قتال دَ مشرکینو (ابوجهل وغیره) سره اودویم علت دے په قطع دَ جړو دَ مشرکینو سره۔ او اول یحق کښ اظهار مراد دے اوپه دویم کښ پخه ول مراد دی۔

[۹] دا دریم علت دے دپاره دَ اولے دعوے حاصل دا دے چه رسول اللّٰه ﷺ قبلے ته مخ کړو اولاس ئے اوږده کړل اودُعا ئے غوښته په هغے کښ دا الفاظ دی (اَللّٰهُمَّ اَنْجِزْلِیْ مَاوَعَدْتَّنِیْ، اَللّٰهُمَّ اٰتِنِیْ مَاوَعَدْتَّنِیْ، اَللّٰهُمَّ اِنْ تُهْلِكْ هٰذِهِ الْعِصَابَةَ مِنْ اَهْلِ الْاِسْلَامِ لَاتُعْبَدْ فِی الْاَرْضِ) نودا دُعا اللّٰه تعالیٰ قبوله کړه او یوزر (۱۰۰۰) ملائك ئے را اولیږل او په هغے سره غنیمت حاصل شو۔ نو په هغے غنیمت کښ اختلاف مه کوئے ﴿اِذْتَسْتَغِيْثُوْنَ﴾ دَ غوث نه اخستلے شویدے اوغوث فریاد اوطلب دَ مدد ته وئیلے شی اودا ایت بنکاره دلیل دے چه استغاثه په رب پورے خاص ده ﴿مُمِدُّكُمْ﴾ مدد کښ معنیٰ دَ نصرت اودَ زیادت دواړه ماخوذ ده ﴿مُرْدِفِيْنَ﴾ جماعتونه دَ ملائکو په یو بل پسے راتلل اوپه داسے راتللوسره ډیر رعب پریوځی په دُشمنانوباندے دا طریقه دَ راتللودَ ملائکووه په بدرکښ اوپه سورة العمران (۱۲٤) کښ دَ هغوی نازلیدل ذکردی اشاره ده چه اسمانی ملائك وؤ اوپه سورة العمران (۱۲۵) کښ دَ هغوی فوجی علامات ذکر وؤپه مسوّمین سره۔

[۱۰] یعنی ظاهری امداد کښ دوه فائدے دی یو دَ زړه اطمینان بل اثاردَ خوشحالئ په مخ باندے پدے کښ جواب دَ سوال دے یعنی که څوك ګمان اوکړی چه مدد دَ ملائکوپه قدرت کښ دے نوجواب اوشو ﴿وَمَاالنَّصْرُ﴾ دَ دے دوه معنے دی اول لاندے دَ اسبابونه دا دَ مخلوق صفت دے لکه سورة العمران (۵۲) اوپه دے سورة (۲۲) کښ۔ دویم پورته دَ اسبابونه دے هغه خاص دے په اللّٰه تعالیٰ پورے او هغه په معنیٰ دَ غلبے سره دے په دے ایت کښ مراد دے داسے ایت په سورة العمران (۱۲٦) کښ ذکر دے فرق ئے دا دے

وَيُذْهِبَ عَنْكُمْ رِجْزَ الشَّيْطٰنِ وَلِيَرْبِطَ عَلٰى قُلُوْبِكُمْ وَيُثَبِّتَ بِهِ الْاَقْدَامَ ﴿١١﴾ اِذْ يُوْحِيْ
رَبُّكَ اِلَى الْمَلٰٓئِكَةِ اَنِّيْ مَعَكُمْ فَثَبِّتُوا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ؕ سَاُلْقِيْ فِيْ قُلُوْبِ الَّذِيْنَ كَفَرُوا
الرُّعْبَ فَاضْرِبُوْا فَوْقَ الْاَعْنَاقِ وَاضْرِبُوْا مِنْهُمْ كُلَّ بَنَانٍ ﴿١٢﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ شَآقُّوا اللّٰهَ

اولرے کړی ستاسونه پلیتی (وسوسه) دَشیطان اوچه کلکوالے راولی په زړونو ستاسو اوکلك کړی په سبب دَ دے سره قدمونه ستاسو(۱۱) کوم وخت چه وحی کوله رب ستا ملائکو ته چه څه ستاسوسره یم پس کلك کړئ هغه کسان چه ایمان ئے راوړیدے خامخا اچوم څه په زړونو دَکافرانو کښ یره پس وهئ یره دَستونونه او وهئ دَ دوی نه هربند دَګوتو(۱۲) داپه دے وجه چه دوی خلاف کړے دے دَ اللّٰه تعالیٰ

اول په هغے کښ لکم ذکردے اودلته نیشته دویم فرق هلته به دَ قلوبکم نه روستوذکرکړے دے اودلته مخکښ څکه چه دلته دَ اول امداد ذکردے (چه زرملائك دی) اودا سبب اول دے نوپه به سره ئے اول سببیت ذکر کړو۔

[۱۱] دا څلورم علت دے اودَ نصرت الٰهیه نورے طریقے دی اودَ باران څلورفائدے ئے ذکرکړی دی۔ حاصل دا دے چه په میدان دَ بدرکښ په صحابه کرامو دَ کموالی دَ وجے نه خوف راغے او بل دا چه شیطان وسوسے واچولے چه تاسو سره اوبه نیشته اوپه شګوکښ یئ نوتاسو به جنګ څنګه اوکړئے نو اللّٰه تعالیٰ یو پرکالی راوسته په دوی په هغے سره ئے ترینه خوف لرے کړو اوباران ئے اوورو په هغے سره پاکوالے حاصلیدلواودَ شیطان وسوسے لاړے ﴿النُّعَاسَ﴾ لږ خوب چه دَ هغے اثردَ سرپه دروندوالی سره معلومیږی ﴿اَمَنَةً﴾ هغے ته وئیلے شی چه سبب دَ خوف موجود وی لیکن خوف زائله شی اودا معجزه او کرامت وی۔ اوامن هغے ته وائی چه سبب دَ خوف هم زائله شی دلته خومقابله کښ کافران تیار ولاړدی جنګ موجود دے لیکن خوف زائله شو نوځکه امنةً ئے ذکر کړو داسے په سورة العمران ۱۵٤ کښ هم ذکر دی هلته ئے یو طائفه ذکرکړے ده څکه چه جنګ اُحدکښ منافقان وؤخوپه هغوی باندے نعاس رانغے اوپه غزوه بدرکښ منافقان نیشته نودلته ئے ټولوته خطاب اوکړو ﴿لِيُطَهِّرَكُمْ﴾ په اودس کولواوغسل کولوسره ﴿رِجْزَالشَّيْطَانِ﴾ بے اودسی اوجنابت یا هغه وسوسے چه شیطان اچولے په زړونودَ مؤمنانوکښ چه تاسو سره اوبه نیشته نومعلومه شوه چه تاسوپه حق باندے نه یئ ﴿لِيَرْبِطَ﴾ ربط القلب هم صفت دَ اولیاء اللّٰه دے ربط اواطمینان کښ فرق دے دَ اطمینان سره سبب ذکر وی اودَ ربط سره سبب ذکرنه وی اوربط عبارت دے دَ پوخوالی دَ زړه نه په عقیده اوپه دعوت اوپه جهادکښ بغیردَ څه خوف نه۔ ﴿وَلِيَرْبِطَ﴾ پدیکښ لام ذکرکړو اشاره ده چه دَ دے تعلق دَ نعاس اوباران دواړو سره دے ﴿يُثَبِّتَ بِهِ﴾ ضمیر ربط قلب ته راجع دے یا اوبودَ باران ته۔

[۱۲] داپنځم علت دے دَ اولے دعوے، حاصل ئے دا دے چه اللّٰه تعالیٰ ملائکو لره په جنګ کولوکښ تاسو سره شریك کړل اودَ هغے دَ وجے نه غنیمت حاصل شونوپه هغے کښ اختلاف مه کوئے ﴿فَثَبِّتُوا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا﴾ یوتثبیت قولی وؤ مطلب ئے دا دے چه زیرے ورکړئے مؤمنانو لره په مدد دَ اللّٰه تعالیٰ۔ دویم تثبیت ئے عملی وؤ چه ملائك حاضرشوی وؤ دپاره دَ قتال په شکل دَ سړوکښ مؤمنانوبعضِ دَ هغے نه

وَرَسُوْلَهٗ ۚ وَمَنْ يُّشَاقِقِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَاِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿١٣﴾ ذٰلِكُمْ فَذُوْقُوْهُ وَاَنَّ
لِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابَ النَّارِ ﴿١٤﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا لَقِيْتُمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا زَحْفًا فَلَا تُوَلُّوْهُمُ
الْاَدْبَارَ ﴿١٥﴾ وَمَنْ يُّوَلِّهِمْ يَوْمَئِذٍ دُبُرَهٗٓ اِلَّا مُتَحَرِّفًا لِّقِتَالٍ اَوْ مُتَحَيِّزًا اِلٰى فِئَةٍ فَقَدْ
بَآءَ بِغَضَبٍ مِّنَ اللّٰهِ وَمَاْوٰىهُ جَهَنَّمُ ۭ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴿١٦﴾ فَلَمْ تَقْتُلُوْهُمْ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ

او دَرسول دَهغه نه او چاچه خلاف اوكړو دَ اللّٰه تعالیٰ او دَ رسول دَهغه نه پس یقیناً اللّٰه تعالیٰ سخت عذاب ورکوونکے دے هغه لره (۱۳) داعذاب ستاسو پس اوځکئ دا(په دُنیا کښ)(اوپوهه شئی) چه یقیناً کافرانولره عذاب دَ اُور دے(۱٤) اے ایمان والو: کله چه مخامخ شئ تاسو دَ کافرانو سره په وخت دَ جنګ کولو کښ پس مه ګرځوے هغی ته شاګانے (۱۵) اوچاچه اوګرځوله دوی ته په دغه ورځ کښ شاخپله مګر که هنر کوونکے وی دپاره دَجنګ یایو ځائے کیدونکے وی دَ ډلے خپلے سره پس یقیناً اخته شودے په غضب دَ اللّٰه تعالیٰ او ځائے دَ ورتلو دَ دهٗ جهنم دے اوبد دے ځائے دَګرځیدو (دا جهنم) (۱٦) پس نه دی وژلی تاسو هغی لره لیکن اللّٰه تعالیٰ

اولیدل اودَ بعضوئیے اواز اوریدو لیکن دوی نه پیژندل مخکښ دَ اخبار دَ رسول اللّٰهﷺ نه دریم تثبیت دے په طریقه دَ الهام سره په زړونودَ مؤمنانو کښ ﴿اَنِّیْ مَعَكُمْ﴾ معیت دَ اخرت دے معلومه شوه چه ملائك هم دَ اللّٰه تعالیٰ نصرت ته محتاج دی اویواحتمال دا دے چه دلته قولوا پټ دے یعنی اُوائے مؤمنانو ته دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه چه انی معکم ﴿سَاُلْقِیْ﴾ دا تفسیرد معکم دے یا نتیجه دَ فثبتوا ده ﴿الرُّعْبَ﴾ زړه دیرے نه ډکیدل په امید دَ مصیبت سره ﴿فَوْقَ الْاَعْنَاقِ﴾ مراد دَ دے نه دَ سر روستنئے حصه ده یا ټول سردے ﴿بَنَانٍ﴾دائے ځکه خاص کړه په وهلوسره ځکه چه دے باندے جنګ کیدیشی۔

[۱۳] دے اٰیت کښ سبب ذکر دے دپاره دَ وژلو دَکافرانو چه هغه شقاق دے شقاق په اصل کښ دیته وائي چه دوه ټکړے جوړے شی اویودَ بل په مقابله کښ وی۔ علماؤ لیکلی دی چه هرمشرك اومبتدع مشّاق دَ اللّٰه تعالیٰ اودَ رسول دے ځکه چه دَ هغوی په خلاف کښ ئے دین جوړ کړے دے۔

[۱٤] دا خطاب کافرانوته دے اوپه دے کښ اشاره ده قتل اوقید اوذلت دَکافرانوته په بدرکښ۔ ﴿فَذُوْقُوْهُ﴾ دا په طریقه دَ استهزاء سره ئے ذکر کړے دے ځکه چه ذوق په خوږو ځیزونو کښ ذکر کیږی۔ وَاَنَّ نه مخکښ لفظ واعلمو پټ دے۔

[۱۵] دا اول قانون دے مجاهدینولره چه دَ میدان جنګ نه تیښته اونکړئے اودا تیښته کول ګناه کبیره دے۔ لفظ دَ اَدبَارَ، دَکار په قباحت باندے دلالت کوی ﴿زَحْفًا﴾ په اصل کښ خړپوسے کولودَ بچی ته وئیلے شی یعنی لښکردَ ډیر والی دَ وجے نه په دمه دمه ځی۔ اودارنګ زحف نزدے کیدلوته وئیلے شی یعنی په وخت دَ جنګ کښ چه یوبل ته نزدے شئے۔

[۱٦] په دے کښ ذکردَ عذاب اُخروی دے په تیخته کولوباندے لیکن دوه حالتونه ئے دَ هغے نه مستثنیٰ کړیدی یوهنراوطریقه جوړول دپاره دَ جنګ چه دُشمن ته شاوګرځوی اوناساپه واپس شی اوحمله پرے اوکړی دویم دا دے چه خپلے ډلے نه یواځے شوے وی نوځان هغے یا بلے ډلے ته رسوی دپاره دَ امداد

قَتَلَهُمْ ۪ وَمَا رَمَيْتَ اِذْ رَمَيْتَ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ رَمٰى ۚ وَلِيُبْلِيَ الْمُؤْمِنِيْنَ مِنْهُ بَلَآءً حَسَنًا ۚ اِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿١٧﴾ ذٰلِكُمْ وَاَنَّ اللّٰهَ مُوْهِنُ كَيْدِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿١٨﴾ اِنْ تَسْتَفْتِحُوْا فَقَدْ جَآءَكُمُ الْفَتْحُ ۚ وَاِنْ تَنْتَهُوْا فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۚ وَاِنْ تَعُوْدُوْا نَعُدْ ۚ وَلَنْ تُغْنِيَ عَنْكُمْ فِئَتُكُمْ شَيْـًٔا

وژلی دی هغی لره اونه دی رسولی تاکانړی سترګو دَکافرانوته کله چه تاګذار کړه دَمتی نه لیکن اللّٰه تعالیٰ او رَسَول سترګو دَهغی ته (اوداکارئے اوکړو) دپاره دَ دے چه ورکړی مؤمنانوته دَخپل طرف نه انعام خائسته یقیناً اللّٰه تعالیٰ هرڅه اوری په هرڅه پوهه دے (۱۷) داکارخوداسے اوشو (اوپوهه شئ) یقیناً اللّٰه تعالیٰ کمزورے کوی چل ول دَکافرانو(۱۸) که تاسو فیصله غوښته پس یقیناً راغله تاسوته فیصله اوکه منع شوئ (دکفر نه) پس داغوره ده تاسولره اوکه راوګرځیدئے جنګ ته نوراوبه ګرځومونږ مدد دَمؤمنانوته اوچرے نشی لرکولے ستاسونه ډله ستاسو څه تکلیف

دَحاصلولو نوپه دے دواړه حالتونو کښ شاګرځول شته لیکن په اراده دَ تیښتے کولوسره نه دی۔

[۱۷] دا شپږم علت دے دَ اولے دعوے حاصل ئیے دا دے چه داکوم مشرکان په بدر کښ قتل کړے شول یا په سترګودَ هغوی کښ کانړی اولګیدل دا تاسونه دی کړی بلکه اللّٰه تعالیٰ کړیدی اوپه هغے سره غنیمت حاصل شوے دے نوپه هغے کښ اختلاف مه کوئے ﴿وَلٰكِنَّ اللّٰهَ قَتَلَهُمْ﴾ دا نسبت یا په دے وجه سره دے چه اللّٰه تعالیٰ توفیق دَ قتل ورکړے وؤ مؤمنانوته سرهٗ دَ کموالی دَ اسبابونه۔ بله وجه دا ده چه قتل کړے شوے وؤ په واسطه دَ ملائکوځکه بعضو روایاتونه ثابته ده چه صحابی به لاګو ذارنه وؤ کړے اومخکښ به سردَکافراوغورځید۔ سوال: دے ایت کښ هم نسبت دَ رمی شویدے پیغمبرﷺ ته اوهم ترے نفی شویده دَ دے څه وجه ده؟ جواب: دا دے چه نسبت دَ رمی په اعتباردَ ظاهرسره دے چه رسول اللّٰه ﷺ یوموټے کانړی را واخستل او دَکافرانو طرف ته ئیے او ویشتل۔ اونفی دَ رمی په دے وجه سره ده چه هغه کانړی سترګو دَکافرانو ته رسَول دا دَ پیغمبرکارنه وؤ دا دَ اللّٰه تعالیٰ کار وؤځکه چه دا معجزه ده۔

فائده: کوم فعل چه دَ بنده په اختیار اوکسب سره دے چه هغه رمی ده (کانړی ویشتل دی دَلاس نه) دَ هغے نسبت ئیے نبی ته اوکړوپه اذ رَمیت سره اوکوم کار چه دَ بنده کسب اواختیارنه بهردے نوهغه ئیے دَ نبی نه نفی کړو۔ اواللّٰه تعالیٰ ځان ته نسبت اوکړو۔ سوال : په قتل کښ ولے نسبت ظاهری ئیے مؤمنانوته اونکړو پشان دَ رمی؟ جواب: قتل نه مراد روح قبض کول دی روستودَ عمل دَ قاتل نه اودَ روح اخستلونسبت صرف اللّٰه تعالیٰ ته کیدیشی اودَ بنده په کسب سره استعمال دَ الے دَ قتل دے هغے ته هم قتل وئیلے شی لیکن دلته دا معنیٰ مراد نه ده۔

[۱۸] دا خطاب دے مؤمنانوته ذَالِکُم کښ اشاره ده ﴿بَلَآءً حَسَنًا﴾ ته مبتدا محذوف ده یعنی الغرض ذالکم او وَاَنَّ عطف دے په ذالکم باندے یا اعلموا حذف دے۔

وَّلَوْ كَثُرَتْ ۙ وَاَنَّ اللّٰهَ مَعَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۹﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَلَا تَوَلَّوْا
عَنْهُ وَاَنْتُمْ تَسْمَعُوْنَ ﴿۲۰﴾ وَلَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ قَالُوْا سَمِعْنَا وَهُمْ لَا يَسْمَعُوْنَ ﴿۲۱﴾ اِنَّ شَرَّ الدَّوَآبِّ
عِنْدَ اللّٰهِ الصُّمُّ الْبُكْمُ الَّذِيْنَ لَا يَعْقِلُوْنَ ﴿۲۲﴾ وَلَوْ عَلِمَ اللّٰهُ فِيْهِمْ خَيْرًا لَّاَسْمَعَهُمْ ؕ وَلَوْ

اګرکه ډیره وی (اوپوهه شئ) یقیناً اللّٰه تعالیٰ ملګرے دَمؤمنانو دے (په مدد کولوسره)(۱۹) اے ایمان والو: تابعداری کوئ دَ اللّٰه تعالیٰ اودَرسول دَهغه اومخ مه اړوئے دَهغه نه اوحال دا دے چه اورئے تاسو (قرآن اوسنت) (۲۰) اومه کیږئ پشان دَهغے کسانو چه وائی اوریدلے دے مونږه اوحال داچه دوی نه دی اوریدلی (په زړه سره)(۲۱) یقیناً بدتر دَزنده سرونه په نیز دَ اللّٰه تعالیٰ کانړه دی (دَحق نه) چاړه کان دی هغه کسان چه نه پوهیږی(په حق باندے) (۲۲) اوکه معلومه وے اللّٰه تعالیٰ ته په دوی کښ طلب دَحق خامخا اورولے به ئے وے دویته (په پوهه ولو سره) اوکه

[۱۹] دا زجراوتخویف دے اوخطاب دے کافرانوته اوپه اخرکښ بشارت دے مؤمنانو ته دَ دے حاصل دا دے چه کافرانو یودُعا غوښتلے وه اودَ هغے بداثر اللّٰه تعالیٰ په هغوی باندے اوغورځوو او هغوی ئے مغلوب کړل بیا په دے ایت کښ دوه توجیه دی اول دا چه دا خطاب دے کافرانوته او دا توجیه غوره ده ځکه چه روستو جملے په دے باندے دلالت کوی دویمه توجیه دا ده چه دا خطاب دے مؤمنانوته مفسرینو لیکلی دی چه ابوجهل اودَ هغه ملګرو بدرته دَ وتلونه مخکښ دَکعبے غلاف اونیوو اودا دُعائیے لوستلے وه چه یا اللّٰه تعالیٰ په دے دواړو ډلوکښ چه کوم په هدایت باندے دی اوکوم ستا په نیز غوره دی نو هغوی سره امداد اوکړے لیکن دا دواړه صفتونه په مؤمنانوکښ وؤ نواللّٰه تعالیٰ دا دُعا دَ هغوی په باره کښ قبوله کړه ﴿وَاَنَّ اللّٰهَ﴾ نه مخکښ واعلموا پټ دے او دا بشارت دے مؤمنانو ته په نصرت خاصه سره۔

[۲۰] دے ځائے نه دویم باب دے ځلویښتم ایت پورے په دے کښ ځلور قوانین دَ جهاد ذکر کوی او په مینځ کښ ترغیب دے جهاد ته اودَ پنځم قانون نه روستو اثاردَ تقویٰ ذکرکوی وجوداً اوعدماً او دوه علتونه ذکرکوی اوتخویف دے دپاره دَ منکرینو اودویمه دعویٰ دَ سورۃ ده پدے ایت(۲۰)کښ دویم قانون دے مطلب دَ هغے دا دے چه مجاهد باندے لازم دی چه دَ اللّٰه تعالیٰ اودَ رسول پوره تابعداری او کړی۔﴿وَلَاتَوَلَّوْا عَنْهُ﴾ مفرد ضمیرئے ځکه ذکرکړو چه طاعت دَ اللّٰه تعالیٰ اودَ رسول یودے ﴿وَاَنْتُمْ تَسْمَعُوْنَ﴾ دا قید دے دپاره دَ ډیرتاکید یعنی سره دَ علم نه اِعراض اونه کړئے۔ اوسماع نه مراد اوریدل دَ پوهے اودَ تصدیق کولو دی۔

[۲۱] دا درے ایتونه زورنه ده منافقینونه چه هغوی سستی کوی په جهادکښ اومنع کول دی مؤمنانولره دَ اخلاقودَ منافقینونه دا ایت دلیل دے په دے خبره چه ځوک په ځُلے اقرار کوی چه ځه تابعداریم اوأُمّتی یم لیکن په هغه باندے دَ دے اثرنه بیکاری نودا قول بے فائدے دے او دا علامت دَ نفاق دے ﴿لَايَسْمَعُوْنَ﴾ نفی دَ سماع دَ قبولیت اودَ تصدیق ده۔

[۲۲] دا دلیل دے دَ مخکښ ایت دپاره چه دَ منافقانوپه شانتے مه کیږه ځکه چه دوی بدتردی اودَ دے ایت نه معلومه شوه چه عنادی کافراومشرك دَ اللّٰه تعالیٰ په نیزدَ ټول مخلوق نه بدتردے۔ او دا علت اصلی

اَسْمَعَهُمْ لَتَوَلَّوْا وَّ هُمْ مُّعْرِضُوْنَ ﴿٢٣﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اسْتَجِيْبُوْا لِلّٰهِ وَلِلرَّسُوْلِ اِذَا دَعَاكُمْ
لِمَا يُحْيِيْكُمْ ۚ وَاعْلَمُوْۤا اَنَّ اللّٰهَ يَحُوْلُ بَيْنَ الْمَرْءِ وَ قَلْبِهٖ وَ اَنَّهٗۤ اِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ ﴿٢٤﴾ وَاتَّقُوْا فِتْنَةً
لَّا تُصِيْبَنَّ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مِنْكُمْ خَآصَّةً ۚ وَاعْلَمُوْۤا اَنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿٢٥﴾ وَاذْكُرُوْۤا اِذْ اَنْتُمْ

واوروی اللّٰه تعالیٰ دویته (په داسے حال کښ) خامخا دوی به مخ واړوی او دوی همیشه مخ اړوونکی دی(۲۳) اے ایمان والو:حکم قبلوئ دَ اللّٰه تعالیٰ او دَرسول کله چه رااوبلی تاسوهغه ځیزته چه ژوندی کوی تاسو اوپوهه شئ یقیناً اللّٰه تعالیٰ پرده اچوی په مینځ دَسړی اودَزړه دَهغه کښ اویقیناً خاص هغه ته به جمع کړے شئ تاسو(۲٤) اوځان بچ کړئ (په جهاد کولو سره) دَهغه عذاب نه چه نه رسی ظالمانوته ستاسونه یوائے اوپوهه شئ یقیناً اللّٰه تعالیٰ سخت عذاب ورکوونکے دے (۲۵) اویاد کړئے هغه وخت کله چه تاسو

دے دپاره دَ قتال ځکه چه دَ شر والا ځیز وژل ضروری دی او دا ایت عام دے منافقانو اوښکاره کافرانوته۔

[۲۳] علم (پوهه) دَ اللّٰه په باره دَ خیرکښ کنایه ده دَ وجود دَ هغے نه ځکه چه موجود وی نواللّٰه تعالیٰ به پرے خامخا عالم وی اوحاصل دَ دے جملے دا دے که چرے موجود وے په دوی کښ طلب دَ حق نو اورولے به ئے وے دوی ته په افهام او تصدیق سره ځکه چه په انابت سره هدایت حاصلیږی۔ اودا جمله جواب دَ سوال دے یعنی که سوال اوشی چه سره دَ دے نه چه دوی صم بکم دی لیکن اللّٰه تعالیٰ دے دوی ته اسماع دَ پوهے ورکړی ؟ جواب دا دے چه په دوی کښ انابت نیشته دے نو ځکه فهم ورته نه حاصلیږی ﴿وَلَوْ اَسْمَعَهُمْ﴾ دا جواب دَ بل سوال دے سوال دا دے چه دوی اګرچه په حال دَ ضد اوعناد کښ دی لیکن اللّٰه تعالیٰ دِ ورته وا وروی کنه؟ نو جواب او شو که په داسے حال (عناد) کښ ورته واوروی نو دوی مخ ګرځوی ، معلومه شوه چه په دے ایت کښ دواړه جملے مستقلے دی صغریٰ او کبریٰ نه دی۔

[۲٤] دادریم قانون دَ جهاد دے اوحاصل دَ دے دا دے چه دَ جهاد فرض کیدلو په وخت کښ نفل کارونه پریږدئے اوپه جهاد کښ ضرور شریك شئے۔ او دلیل په دے باندے حدیث دَ بخاری دے دَ ابوسعید ابن المعلی نه چه هغه وئیلی دی (ماپه مسجد کښ نفل مونځ کوو پس ماته رسول اللّٰه ﷺ اواز راکړو لیکن ما اجابت اونکړو چه دَ مانځه نه فارغ شوم نو ورته راغلم او عذرمے ورته پیش کړو چه ما مونځ کوونو هغه اوفرمائیل چه تا دا ایت نه دے اوریدلے نو دَ دے نه معلومه شوه چه دَ فرض کار دپاره هر نفل پریښودل ضروری دی۔ ﴿لِمَا يُحْيِيْكُمْ﴾ مراد دَ دے نه جهاد دے ځکه چه هغه سبب دَ ژوند دے دارنګ دَ دے نه مراد قرآن کریم اوسنت دی ځکه چه هغه هم سبب دَ حیات دے ﴿يَحُوْلُ بَيْنَ الْمَرْءِ وَقَلْبِهٖ﴾ دَ پردے اچولونه مراد مهر لګول دی لکه بل ځائے چه دیته خَتَم اوطَبعَ وئیلے شویده دا قول دَ مجاهد دے اوضحاك وئیلی د ی چه دا عام دے یعنی دَ مؤمن اودَ معصیت او دَ کافر اودَ طاعت په مینځ کښ حائل اومانع پیدا کوی۔

[۲۵] دا عطف دے په استجیبوا باندے اوترغیب دے جهاد ته که په ژبے سره وی او که په توره وی او یره دَ عذاب ده په وخت دَ پریښودلو دَ دے جهاد کښ حاصل دا دے چه کله په یوځائے کښ ګناه کیږی اونور خلق دَ هغے نه منع اونکړی نوعذاب دَ دُنیا به په ټولوباندے عام راځی۔

قَلِيْلٌ مُّسْتَضْعَفُوْنَ فِي الْاَرْضِ تَخَافُوْنَ اَنْ يَّتَخَطَّفَكُمُ النَّاسُ فَاٰوٰىكُمْ وَاَيَّدَكُمْ بِنَصْرِهٖ
وَرَزَقَكُمْ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿٢٦﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَخُوْنُوا اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ
وَتَخُوْنُوْٓا اَمٰنٰتِكُمْ وَاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿٢٧﴾ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّمَآ اَمْوَالُكُمْ وَاَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ ۙ وَّاَنَّ اللّٰهَ عِنْدَهٗٓ
اَجْرٌ عَظِيْمٌ ﴿٢٨﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنْ تَتَّقُوا اللّٰهَ يَجْعَلْ لَّكُمْ فُرْقَانًا وَّيُكَفِّرْ عَنْكُمْ سَيِّاٰتِكُمْ ع ١٤
وَيَغْفِرْ لَكُمْ ۭ وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ﴿٢٩﴾ وَاِذْ يَمْكُرُ بِكَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِيُثْبِتُوْكَ اَوْ يَقْتُلُوْكَ اَوْ

لږوئ کمزوری کړے شوی وئے په زمکه کښ پریدئ تاسو چه اوبه تختوی تاسو لره خلق پس ځائے درکړو تاسولره اوکلك ئے کړئ په مدد خپل سره اوروزی ئے درکړه تاسولره ډپاکو ځیزونونه دے دپاره چه تاسو شکر اوکړئ(۲۶) اے ایمان والو: خیانت مه کوئ دَاللّٰه تعالیٰ اودَرسول سره اوخیانت مه کوئ په امانتونو خپلوکښ اوتاسو پوهیږئے (۲۷) اوپوهه شئے چه یقیناً مالونه ستاسو او اولاد ستاسو امتحان دے او یقیناً دَ اللّٰه تعالیٰ سره ثواب لوئے دے (۲۸) اے ایمان والوا که یره کوئ تاسو دَ اللّٰه تعالیٰ نه نودربه کړی تاسو لره فتح اولرے به کړی ستاسونه بدئ ستاسو او بخنه به اوکړی تاسو ته او اللّٰه تعالیٰ خاوند دَ فضل لوئے دے (۲۹) اوکله چه جرګه کوله ستا په باره کښ کافرانو چه قید کړی تا لره یاوژنی تالره یا

[۲۶] دے ایت کښ هم ترغیب دے جهاد ته اواشاره ده چه دا درے انعامات دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه په چا باندے وی نوپه هغه باندے جهاد فرض دے اول انعام خپل ځائے لکه مدینه منوره ، دویم امداد دَ اللّٰه تعالیٰ په ظاهری اسبابوسره لکه په بدرکښ، دریم رزق حلال لکه غنیمتونه حلالول ۔ دے ایت کښ دَ شکرنه مراد جهاد کول دی ﴿يَتَخَطَّفَكُمُ النَّاسُ﴾ تخطف دیته وئیلے شی چه ټپوس چرګوړی اوتختوی یا باز خپل ښکار لره په پنجوکښ اوچت کړی۔

[۲۷] دا ځلورم قانون دَ جهاد دے چه مجاهد له هیڅ قسم خیانت کول نه دی جائزخیانت دَ اللّٰه تعالیٰ سره دَ هغه په حکمونو کښ زیاتے یا کمے کول دی اوخیانت دَ رسول سره دَ هغه دَ سنت خلاف کول دی اودَ اماناتونه مراد هغه ټول حقونه دی چه بنده په هغے سره مکلف دے۔ خیانت مخالفت کول دَ حق دی په بے لوظئ کولوسره په پټه باندے او دا علامت دَ نفاق دے داسے راغب په مفردات کښ ذکر کړے دی۔

[۲۸] دا علت دَ محکښ ایت دے چه خیانت کیږی نودَ وجے دَ مال یا دَ اولاد نه کیږی اوهغه فِتنه ده نومراد دَ فتنے نه امتحان دے یا سبب دَ وقوع دے په ګناهونوکښ اوپه خیانت کولوکښ اودا صفت په مالونوکښ ډیردے په نسبت دَ اولاد سره اوداسے په سورة منافقون (۹) اوسورة تغابن (۱۵) کښ ذکر دے۔

[۲۹] دا پنځم قانون دپاره دَ جهاد دے مطلب ئے دا دے چه مجاهد باندے لازم ده تقویٰ کول او هغه سبب دے دَ بچ کیدلودَ خیانت اوفتنے نه اومراد دَ تقویٰ نه تابعداری دَ اوامرو دَ اللّٰه تعالیٰ ده اوبچ کیدل دَ نواهی دَ اللّٰه تعالیٰ نه اوپریښودل دَ شبهاتو دی اوپه دے ایت کښ دَ دے تقویٰ ئے درے فائدے بیان کړی دی یوفتح حاصلیدل دویم بدئے اوسختئ لرکیدل دریم ګناهونه معاف کیدل اودَ دے نه روستو اثار بیانوی دَ تقویٰ دَ شته والی اودَ نیشت والی ﴿فُرْقَانًا﴾ کښ ډیراقوال دی اودا لفظ هغه ټولوته شامل دے یعنی نُورپه

يُخْرِجُوْكَ ؕ وَيَمْكُرُوْنَ وَيَمْكُرُ اللّٰهُ ؕ وَاللّٰهُ خَيْرُ الْمٰكِرِيْنَ ﴿٣٠﴾ وَاِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيٰتُنَا قَالُوْا قَدْ
سَمِعْنَا لَوْ نَشَآءُ لَقُلْنَا مِثْلَ هٰذَآ ۙ اِنْ هٰذَآ اِلَّآ اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿٣١﴾ وَاِذْ قَالُوا اللّٰهُمَّ اِنْ كَانَ
هٰذَا هُوَ الْحَقَّ مِنْ عِنْدِكَ فَاَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً مِّنَ السَّمَآءِ اَوِ ائْتِنَا بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ ﴿٣٢﴾

اوباسی تاله اوچل ول کوو دوی اوپټ تدبیر اوکړو الله تعالیٰ (ډبج کولوستا) او الله تعالیٰ ډیربنه دے ډ تدبیر کوونکونه (۳۰) اوکله چه اولوستے شي په دوی باندے آیتونه زمونږه دوی وائی یقیناً واوریدو مونږ که اوغواړو مونږ نو خامخا اوبه وایو پشان ډ دے، نه دے دا (قرآن) مګر قیصې دی ډمخکنو خلقو (۳۱) اوکم وخت چه دوی او وئیل اے الله تعالیٰ که وی داقرآن حق ډطرفه ستانه پس راأوره وه په مونږ باندے کانړی ډ آسمان نه یاراکړه مونږ ته عذاب درد ناك (۳۲)

زړه کښ چه په هغے سره ډ حق اوباطل تمیز کیدلے شی، فتح، غلبه وغیره ﴿سَيِّاٰتِكُمْ﴾ ګناهونه صغیره اوناکاره صفتونه اوسختئے درے معانوته شامل دے ﴿يَغْفِرْ لَكُمْ﴾ ګناهونه کبیره ته شامل دے ﴿ذُوالْفَضْلِ﴾ اشاره ده چه دا درے فائدے په فضل ډ الله تعالیٰ سره دی صرف په تقویٰ سره نه دی۔

[۳۰] دابیان ډ اثرډ وجود ډ تقویٰ دے چه په چا کښ تقویٰ وی نوالله تعالیٰ ئے ډ مکرډ دُشمنانونه بچ ساتی بل دا ایت اووم علت دے ډ اولے دعوے دپاره۔ مطلب ډ ایت دا دے چه مشرکانوپه دارالندوه کښ جرګه اوکړه چاوئیل چه دا پیغمبرقیدکوؤ او چاوئیل چه ډکلی ئے اوباسو خو اخری اتفاق په دے راغے چه ډ هرے قبیلے نه دِ یویو مشر راشی اوپه یوځائے باندے دِ په دهٔ حمله اوکړی اوقتل به ئے کړی لیکن الله تعالیٰ دوی رانده کړه او رسول الله ﷺ سره ډ ابوبکرؓ ډ شپے ډ دوی نه اووتلواوهجرت ئے اوکړو اودا سبب شودپاره ډ غزوه بدر اودډ غنیمتونو ډ حاصلولو دپاره نوتاسودډ هغے په باره کښ اختلاف مه کوئے۔ ﴿وَيَمْكُرُ اللّٰهُ﴾ مکرپټ تدبیرکولوته وئیلے شی که ډ خیراوکه ډ شروی اودډ الله تعالیٰ په صفت کښ په تدبیرډ خیرکښ استعمالیږی داسے په سورة العمران(٥٤) کښ شته دے۔

[۳۱] دا زورنه ده منکرینوته او اثردے ډ نیشتوالی ډ تقویٰ۔ تیرشوی ایت کښ مکر عملی ډ مشرکانو ذکر وؤ اوپه دے ایت کښ مکر قولی ذکرکوی هغه په مقابله ډ نبی ﷺ کښ وؤ اودا په مقابله ډ قرآن کښ دے ﴿لَوْ نَشَآءُ لَقُلْنَا﴾ دا قول ډ وجے ډ سخت ضد او عناد نه دے ګنی نواعجازډ قرآن کریم دوی ته واضح شوے وؤ او دوی په یو سورة اوپه یوخبرے سره هم ډ قرآن مقابله کولے نشوه ﴿اَسَاطِيْرُ﴾ جمع ډ اسطورت ده مکتوبت (لیکلے شوی ته وائي) یا جمع ډ اسطور ده اوهغه جمع ډ سطرده (کرښے لیکلے شوے)۔

[۳۲] دا هم زورنه ده منکرینوته او اثر دے ډ نیشتوالی ډ تقویٰ اواتم علت دے دپاره ډ اولے دعوے۔ اودا وینا ډ دوی بناء ده په عناد باندے اودے دپاره چه نور خلق په شك کښ واچوی۔ پکار دا وؤ چه دوی وئیلے وے یا الله که دا حق وی نومونږته ډ دے هدایت اوکړے اودارنګ ډ عذاب طلب په سورة معارج (۱) اوعنکبوت (۵۳) اوپه مخکنوقومونو کښ په سورة شعراء (۱۸۷) کښ ذکر دے۔

[۳۳] دے ایت کښ دوه جملے دی په جواب ډ دوؤ سوالونو کښ اول سوال دادے چه هر کله دوی عذاب غوښتونو ولے په دوی باندے عذاب نه راتلو اودا طلب ډ دوی په هغه وخت کښ وؤ چه نبی ﷺ په

وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَاَنْتَ فِيْهِمْ ۚ وَمَا كَانَ اللّٰهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُوْنَ ﴿٣٣﴾ وَمَا لَهُمْ
اَلَّا يُعَذِّبَهُمُ اللّٰهُ وَهُمْ يَصُدُّوْنَ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَمَا كَانُوْٓا اَوْلِيَآءَهٗ ۭ اِنْ اَوْلِيَآؤُهٗٓ اِلَّا
الْمُتَّقُوْنَ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٣٤﴾ وَمَا كَانَ صَلَاتُهُمْ عِنْدَ الْبَيْتِ اِلَّا مُكَاۗءً وَّتَصْدِيَةً ۭ
فَذُوْقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُوْنَ ﴿٣٥﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ لِيَصُدُّوْا عَنْ

اونه وو الله تعالیٰ چه عذاب ئے ورکړے وے دویته اوحال دا دے چه ته په دوی کښ وے اونه وو الله تعالیٰ عذاب ورکونکے دوی ته حال داچه دوی بخنه غواړی(۳۳) اوځه عذردے دوی لره چه عذاب به نه ورکوی دویته الله تعالیٰ (اوس) اوحال دا دے چه دوی منع کول کوی دَمسجد حرام نه اونه دی دوی اختیار مند دَهغے مګر متقیان خلق لیکن ډیر دَ دوی نه نه پوهیږی (۳٤) اونه دے مونځ دَ دوی دَ بیت الله په خواکښ مګر شپیلی اولاسونه وهل (ټپول) پس اوځکئے عذاب په وجه دَ دے چه تاسو کفر کوو (۳۵) یقیناً هغه کسان چه کفرئے کړیدے خرچ کوی مالونه خپل دپاره دَ دے چه منع کړی خلق دَ

مکه کښ وؤ۔ جواب اوشوچه پیغمبرپه یو قوم کښ موجود وی نوپه هغے عذاب نه راځی۔ دویم سوال دا دے چه هرکله نبی هجرت اوکړو بیا ولے په دوی باندے زرعذاب نه راتلوبلکه عذاب دَ دوی غزوهٔ بدرته روستو کړے شو۔ جواب اوشو چه دَ وجے دَ استغفار غوښتلونه روستو کړے شو اوپه دے استغفار کښ دوه قوله دی اول دا چه دے مشرکینو به په حالت دَ طواف کښ وئیل غفرانك نو هغه سبب شو دَ روستووالی دَ عذاب، دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل دی چه استغفار اکثر چه دَ فجّارو دَ طرف نه وی خودفع کیږی په هغے سره بعضِ شرونه اواضرار (قرطبی) حالانکه چه په هغے سره پوره عذاب نه دفع کیږی۔ دویم قول دا دے چه مراد دَ دے نه استغفاردَ هغے مؤمنانو دے چه هجرت ئے نه ووکړے دَ وجے دَ کمزوروالی نه او هغه په سورهٔ فتح (۲۵) کښ ذکر دی۔

[۳٤] په دے ایت کښ بیان دَ سبب دَ هغے عذاب دے چه نازل شوپه مشرکانو باندے په بدرکښ اوذکرَ آثارو دَ عدم تقویٰ دے ﴿اِنْ اَوْلِيَآؤُهٗٓ اِلَّا الْمُتَّقُوْنَ﴾ دَ دے دوه معنے دی اول دا چه اختیار مند دَ مسجد صرف مؤمنان خلق دی کافران دَ هغے نه دَ منع کولو حق نه لری۔ دویمه معنیٰ دا ده چه دوستان دَ الله تعالیٰ متقیان وی نه لیونی اومجذوبان لکه دا عقیده دَ جاهلانوده اودَ دے تفصیلی رد په روح المعانی کښ کړے دے اودارنګ په سورهٔ یونس (٦۲، ٦۳)کښ دی خودلته دَ تقویٰ اوله مرتبه مراد ده یعنی توحید اوایمان په اوله معنیٰ سره اوسورهٔ یونس کښ تقویٰ کامله مراد ده ﴿وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ﴾ اکثرپه معنیٰ دَکل دے یا وجه دا ده چه لږ دَ دوی نه سرهٔ دَ علم نه عنادیان دی۔

[۳۵] دا هم زورنه ده منکرینوته او بیان دَ اثرَ دَ نیشتوالی دَ تقویٰ دے۔ دَ دے ایت دوه معنے دی اول دا چه مشرکین قریشو به طواف کوؤ دَ بیت الله اوشپیلی به ئے وهل اولاسونه به ئے ټپول اودا دَ دوی په ګمان کښ عبادت وؤ۔ لکه اوس دَ دے مثال بعضِ پیران دی چه په وخت دَ ذکرکښ ګډا کوی اولاس ټپوی، دا ټپول دَ شرع نه خلاف دی دا دعاقلانو کارنه دے داسے قرطبی ذکرکړی دی۔ دویم تفسیر دا دے چه هغه مونځ دَ دوی دَ بیت الله په خواکښ هغه داسے برباد اوعبث دے لکه شپیلی وهل اولاسونه ټپول چه عبث

سَبِيْلِ اللّٰهِ ۚ فَسَيُنْفِقُوْنَهَا ثُمَّ تَكُوْنُ عَلَيْهِمْ حَسْرَةً ثُمَّ يُغْلَبُوْنَ ۗ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِلٰى
جَهَنَّمَ يُحْشَرُوْنَ ﴿٣٦﴾ لِيَمِيْزَ اللّٰهُ الْخَبِيْثَ مِنَ الطَّيِّبِ وَيَجْعَلَ الْخَبِيْثَ بَعْضَهٗ عَلٰى بَعْضٍ
فَيَرْكُمَهٗ جَمِيْعًا فَيَجْعَلَهٗ فِيْ جَهَنَّمَ ۗ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿٣٧﴾ قُلْ لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِنْ يَّنْتَهُوْا يُغْفَرْ
لَهُمْ مَّا قَدْ سَلَفَ ۚ وَاِنْ يَّعُوْدُوْا فَقَدْ مَضَتْ سُنَّتُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿٣٨﴾ وَقَاتِلُوْهُمْ حَتّٰى لَا تَكُوْنَ

لارے دَ اللّٰه تعالیٰ نه پس زردے چه خرچ به کړی دوی هغه مالونو لره بیا به شی په دوی باندے ارمان بیابه کمزوری کړے شی اوهغه کسان چه کافران دی بیابه جهنم ته جمع کړے شی (٣٦) دے دپاره چه جدا کړی اللّٰه تعالیٰ پلیت لره دَپاك نه اوکیبه ږدی پلیتان بعضو لره په بعضو باندے پس دندلئ به کړی ټولو لره پس وابه ئے چوی په جهنم کښ دغه کسان هم دوی تاوان والادی (٣٧) اووایه هغه کسانو ته چه کافران دی که دوی منع شول (دَکفر اوشرك نه) اوبه بخلے شی دوی ته تیرشوی ګناهونه اوکه راوګرځیدل دوی جنګ ته پس یقیناً تیره شوے ده طریقه دَمخکنو خلقو(٣٨) اوجنګ کوئ دَ دوی سره تردے چه پاتے نه شی

دی دا معنیٰ الوسی او راغب ذکرکړے ده معلومه شوه چه په دوی کښ صلوٰة (مونځ) وؤ لیکن دَ شرك دَ وجے نه برباد وؤ او ﴿مُكَآءً وَّتَصْدِيَةً﴾ په طریقه دَ تشبیه سره دی۔

[٣٦] په دے ایت کښ هم زورنه ده منکرینوته اوبیان دَ اثردَ نیشتوالی دَ تقویٰ دے چه هغه بربادی دَ عبادت مالیه ده روستودَ ذکرکولودَ بربادئ دَ عبادت بدنیه نه ﴿لِيَصُدُّوْا﴾ هرهغه انفاق چه دَ دین باطل دَ اشاعت دپاره وی په مقابله دَ دین حق کښ هغه په دے کښ داخل دے ﴿حَسْرَةً﴾ په سبب دَ نه حاصلیدلودَ مقصد دَ انفاق ﴿ثُمَّ يُغْلَبُوْنَ﴾ دا ترقی ده یعنی اول خوبه دَ مقصد نه محروم شی نو بیابه دَ مؤمنانومقابله کښ کمزوری شی ﴿الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا﴾ مراد دَ دے نه هغه کسان دی چه په کفر باندے پاخه پاتے شی۔ او بیا تخویف اُخروی دے په دے دواړو ایتونو کښ۔

[٣٧] دے ایت کښ دَ منکرینوبدحالی دَ اخرت په پنځو طریقوسره ذکر شویده ﴿لِيَمِيْزَ اللّٰهُ﴾ لام علت دے دَ یحشرون یالام دَ عاقبت دے ﴿الْخَبِيْثَ مِنَ الطَّيِّبِ﴾ په اعتبار دَ عقیدے دَ شرك سره خبیث دے اوپه عقیده دَ توحید سره پاك دے اودا تمیزپه اخرت کښ دے لکه په سورة یٰس (٥٩) او یونس(٢٨) کښ او یا په دُنیا کښ دے لکه په سورة العمران (١٧٩) کښ۔

[٣٨] دا دعوت دے منکرینو ته دپاره دَ توبے روستودَ ذکردَ خبائثونودَ هغوی نه دا ایت دلیل دے په دے خبره چه په (ایمان راوړلو سره تمام ګناهونه معاف کیږی که حقوق اللّٰه وی اوکه حقوق العباد وی لیکن دا دَکافرحربی دپاره) اوکافرذمی ته حقوق العباد نه معاف کیږی ﴿سُنَّتُ الْاَوَّلِيْنَ﴾ مراد دَ دے نه نصرت دَ اللّٰه تعالیٰ دے انبیاؤ اودَ مؤمنانوسره اوعذاب او مغلوبه کول دی دَکافرانو اومراد دَ اولین نه انبیاء اومؤمنان مخکنی دی لکه په سورة اسراء (٧٧) کښ۔

فِتْنَةٌ وَّيَكُوْنَ الدِّيْنُ كُلُّهٗ لِلّٰهِ ۚ فَاِنِ انْتَهَوْا فَاِنَّ اللّٰهَ بِمَا يَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿٣٩﴾ وَاِنْ تَوَلَّوْا فَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ مَوْلٰىكُمْ ۭ نِعْمَ الْمَوْلٰى وَنِعْمَ النَّصِيْرُ ﴿٤٠﴾

هیڅ شرك اوشي دین ټول دَ اللّٰه تعالیٰ پس که منع شول دوی پس یقیناً اللّٰه تعالیٰ دَ دوی عملونو لره لیدونکے دے (۳۹) اوکه دوی مخ واړو پس پوهه شئ چه یقیناً اللّٰه تعالیٰ مولاستاسو دے ښه مولادے اوښه مددګار دے(٤٠)

[۳۹] دا دویمه دعویٰ دَ سورة ده اودا ایت دلیل دے په دے خبره چه قتال به جاری وی ترهغے پورے ترڅوچه شرك په دُنیاکښ موجود وی ﴿وَقَاتِلُوْا﴾ عطف دے په معنیٰ دَ مضت سنت الاولین اودَیعودوا دَ لاندے دے ﴿فِتْنَةٌ﴾ مشرك اومؤمن لره دَ دین نه اړول لیکن دلته اوله معنیٰ مناسب ده اوپه سورة بقره (۱۹۳)کښ دویمه معنیٰ مناسب ده اوختمول دَ شرك مستلزم دی دَ دے چه ټول عالم کښ به توحید وی دَ دے وجے نه په دے ایت کښ﴿كُلُّهٗ﴾ ذکر کړے دے اوپه سورة بقره کښ کله نه وؤذکرکړے اودَ دے معنیٰ دَ وجے نه دلته ﴿حَتّٰى﴾ په معنیٰ دَ اِلٰی سره دے اوپه سورة بقره کښ په معنیٰ دَ علت سره دے۔

[٤٠] مطلب دَ ایت دا دے چه که دوی دَ قتال نه نه منع کیږی نوتاسو ورسره قتال کوئے او اللّٰه تعالیٰ به ستاسو امداد کوی ځکه چه هغه ستاسومولا دے ﴿مَوْلٰىكُمْ﴾ مولاپه معنیٰ دَ متولی (سنبالوؤنکی) دے۔ ﴿نِعْمَ الْمَوْلٰى﴾ اللّٰه تعالیٰ چه دَ چا تولی (سنبالخ) کوی نو هغه هیڅرے نه بربادیږی اوچه دَ چا نصرت کوی نو هغه نه کمزوری کیږی اودا مقصد دَ نِعمَ دے په دواړه ځایونوکښ۔ داسے په سورة حج (۷۸) کښ هم دی هلته مقام دَ جهاد وو اوهغه په معنیٰ دَ دعوت سره وو اودلته مقام دَ قتال دے اومقام قتال ډیرسخت دے دَ دعوت نه دَ دے وجے نه په دے ایت کښ تاکید ذکرشوپه (فاعلموا انَّ اللّٰه) سره۔

وَاعْلَمُوْٓا اَنَّمَا غَنِمْتُمْ مِّنْ شَيْءٍ فَاَنَّ لِلّٰهِ خُمُسَهٗ وَلِلرَّسُوْلِ وَلِذِي الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنِ وَابْنِ
السَّبِيْلِ ۙ اِنْ كُنْتُمْ اٰمَنْتُمْ بِاللّٰهِ وَمَآ اَنْزَلْنَا عَلٰى عَبْدِنَا يَوْمَ الْفُرْقَانِ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعٰنِ ؕ وَاللّٰهُ
عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿٤١﴾ اِذْ اَنْتُمْ بِالْعُدْوَةِ الدُّنْيَا وَهُمْ بِالْعُدْوَةِ الْقُصْوٰى وَالرَّكْبُ اَسْفَلَ مِنْكُمْ ؕ
وَلَوْ تَوَاعَدْتُّمْ لَاخْتَلَفْتُمْ فِي الْمِيْعٰدِ ۙ وَلٰكِنْ لِّيَقْضِيَ اللّٰهُ اَمْرًا كَانَ مَفْعُوْلًا ۙ لِّيَهْلِكَ مَنْ

او پوهه شئ یقیناً هغه چه حاصل کړئ په جنګ سره دَ کافرانونه هر څیز چه وی پس یقیناً الله تعالی لره پنځمه حصه دَهغے ده او رسول لره او خپلوانو (دَرسول) لره اویتیمانو او مسکینانو او مسافرو لره که ایمان راوړے وی تاسو په الله تعالی باندے اوپه هغه (مدد) چه رالیږلے وو مونږ په بنده خپل په ورځ دَفیصلے په هغه ورځ چه مخا مخ شوے دوه ډلے او الله تعالی په هرځیز قدرت والا دے(٤١) کوم وخت چه وئ تاسو په غاړه نزدے او دوی وو په غاړه لرے او قافله دَ سوداګرو ښکته روانه وه ستاسونه اوکه وعده کړے وے تاسو نوخامخا به اختلاف کړیوے تاسو په وخت مقرر کښ لیکن (الله تعالی جمع کړئے تاسو بے وعدے) دے دپاره چه پوره کړی الله تعالی هغه کار چه مقرر شوے وو دے دپاره چه مړشی هغه څوك

[٤١] دَ دے ځائے نه دَ سورة دویمه حصه ده اوپه دیکښ هم دوه بابونه دی اول باب (٥٦) ایت پورے دے په دے کښ اول تشریح دَ اولے دعوے ده اودَ هغے دپاره پنځه علتونه دی اویوقانون دَ جهاد دے اوزورنے دی اوتخویف دُنیوی او اخروی دے مطلب دَ ایت دا دے چه مال غنیمت به امیردَ جهاد پنځه حصے کړی اوداحکم دَ الله اودَ رسول دے لکه په اول ایت کښ تیر شویدی څلورحصے به په غانمینو کښ تقسیم کړی اوپنځمه حصه حق دَ بیت المال دے چه دَ هغے پنځه مصرفونه په دے ایت کښ ذکر دی ربط دَ مخکښ سره دا دے چه مخکښ ایت کښ حکم دَ قتال ذکر شونو په دے ایت کښ حکم دَ هغه مال ذکر کوی چه په قتال سره حاصل شی چه هغه غنیمت دے۔ اوحلالیدل دَ غنیمت دا دَ دے اُمت خصوصیت دے مخکنو امتونو کښ په مال غنیمت باندے به دَ قبولیت دپاره اُوردَ اسمان نه نازلیدلو ﴿لِلّٰهِ﴾ ذکردَ الله تعالی په طوردَ اختیارمطلقه اوتبرك دے ﴿وَلِلرَّسُوْلِ﴾ دا حصه دَ بعضِ علماؤپه نیزدَ هغه په ژوند پورے خاص وه دَ هغه اودَ هغه دَ اهل اومیلمنو وغیره دپاره او روستودَ وفات دَ هغه نه ساقطه شویده اودَ بعضِ علماؤپه نیزدا حصه به په بیت المال کښ جمع کیږی دپاره دَ مصالحو دَ مسلمانانودَ علماؤ چه مدرسین دَ تفسیر اوفقه اوحدیث دی خرچه به دَ دینه ورکیدے شی (شربینی او ابن کثیر) ﴿وَلِذِي الْقُرْبٰى﴾ مراد دَ دے نه ذوی قربی دَ رسول ﷺ دی چه هغه فقط بنی هاشم اوبنی مطلب دی۔ اوپه دے ایت کښ بیان دَ اول علت دے په ﴿اِنْ كُنْتُمْ اٰمَنْتُمْ﴾ سره چه هرکله تاسو ایمان په الله تعالی لرے اویقین کوئے چه په ورځ دَ بدر باندے الله تعالی ستاسوامداد کړے دے نوغنیمت کښ ولے اختلاف کوئ۔ دَ اِن جزا پټه ده چه واعلموا په هغے باندے دلالت کوی (نوتقسیم دَ غنیمت په دے طریقے سره اوکړئے)۔

هَلَكَ عَنْۢ بَيِّنَةٍ وَّيَحْيٰى مَنْ حَيَّ عَنْۢ بَيِّنَةٍ ؕ وَاِنَّ اللّٰهَ لَسَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿٤٢﴾ اِذْ يُرِيْكَهُمُ اللّٰهُ
فِيْ مَنَامِكَ قَلِيْلًا ؕ وَلَوْ اَرٰىكَهُمْ كَثِيْرًا لَّفَشِلْتُمْ وَلَتَنَازَعْتُمْ فِي الْاَمْرِ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ سَلَّمَ ؕ اِنَّهٗ
عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿٤٣﴾ وَاِذْ يُرِيْكُمُوْهُمْ اِذِ الْتَقَيْتُمْ فِيْٓ اَعْيُنِكُمْ قَلِيْلًا وَّيُقَلِّلُكُمْ فِيْٓ اَعْيُنِهِمْ

چه مړشو پس دَ دلیل نه اوژوندے پاتے شی هغه څوك چه ژوندے وو پس دَ دلیل نه او یقیناً اللّٰه تعالیٰ هرڅه اوری په هرڅه پوهه دے(٤٢) کوم وخت چه اوخودلو تاته دوی اللّٰه تعالیٰ په خوب ستا کښ لږ اوکه خودلے ئے وے تاته دوی لږه ډیر نو خامخا کمزوری شوی به وے تاسو اوخامخا اختلاف به کړے وو تاسو په باره دَجنګ کولو کښ لیکن اللّٰه تعالیٰ بچ کړئ تاسو (دَکمزورئ او اختلاف نه) یقیناً اللّٰه تعالیٰ پوهه دے په هغه خبرو چه په سینو کښ وی(٤٣) اوکوم وخت چه اوخودل اللّٰه تعالیٰ تاسوته دوی کله چه مخامخ شوئے په سترګو ستاسو کښ لږ اولږئے ښکاره کړئے تاسوپه سترګو دَهغی کښ

[٤٢] دا بل علت دے دپاره دَ دغه دعوے حاصل دادے چه ستاسو جنګ دَ ډلے دَ ابوجهل سره بغیرڅه دَ وعدے نه اللّٰه تعالیٰ اوکړو او تاسوته ئے فتح درکړه نوغنیمت کښ جګړه مه کوئے۔ تفسیرد ایت دا دے چه په بدرکښ یوه خوږګئے ده دَ هغے په هغه طرف باندے چه کوم مدینے ته نزدے وؤ دَ مسلمانانو لښکر وؤ اوهغه بل طرف چه دَ مدینے نه لرے وؤ اومکے ته نزدے وؤ او دَ مکے نه لار هغے ته راوتلے ده په هغے دَ ابوجهل لښکر وؤ اوقافله دَ ابوسفیان دَ مدینے نه په ښکته طرف باندے دَ سمندرپه غاړه روانه وه دَ بدرنه درے میله لرے وؤ ﴿لَاخْتَلَفْتُمْ﴾ اختلاف به دَ دواړو طرفونونه واقع شوے وے ځکه چه په یوبل باندے به مودَ ډیر والی ګمان کړے وؤ ﴿اَمْرًا كَانَ مَفْعُوْلًا﴾ مراد دَ امرنه غلبه ده په قتال کښ مؤمنانو لره ﴿لِيَهْلِكَ مَنْ هَلَكَ﴾ دَ دے یو مطلب دادے چه پس دَ فتح دَ بدر نه دلیل دَ صداقت دَ اسلام ښکاره شونو که څوك مړشی نومرګ ئے پس دَ لیدلودَ دلیل نه دے اوڅوك چه ژوندے وی نوهم دلیل ئے اولیدلو۔ دویم مطلب ئے دا دے چه مراد دَ هلاکت نه کفردے اومراد دَ حیات نه ایمان دے اوډیرومفسرینو دویم قول غوره کړے دے ﴿وَاِنَّ اللّٰهَ﴾ دا معطوف دے په احوالو دَ مؤمنانو اوکافرانوباندے چه په مخکښ جملوکښ ذکر شول۔

[٤٣] دا دریم علت دَ هغے دعوے دے مطلب ئے دا دے چه اللّٰه تعالیٰ خپل نبی ﷺ ته په خوب کښ اوخودله چه کافران لږ دی که ډیرئے ورته ښودلے وے نوبیا دَ جنګ دَ نه کیدلواحتمال وؤ دَ وجے دَیرے ستاسونه لیکن اللّٰه تعالیٰ پدے طریقه دَ جنګ اوغنیمت سبب جوړکړو دَ دے وجے نه غنیمت کښ خپل اختیارمه چلوئے۔ سوال: کافران ډیر وؤ نودَ هغوی کم ښودل خوپه ظاهرکښ دروغ دی؟ جواب: بنا دَ خوبونو په باطنی مورو باندے وی نوپه حقیقت کښ کافران لږدی دَ وجے دَ سپکوالی او دَ ذلت دَ هغوی نه په نیزدَ اللّٰه تعالیٰ یا دَ دے وجے نه چه په مستقبل کښ بعضِ قتل شول اوبعضو ایمان راوړو ﴿اِنَّهٗ عَلِيْمٌۢ﴾ بغیر دَواونه ئے ذکرکړو ځکه چه دا دلیل دَ مخکښ ملازمے دے چه په لواراکم اه کښ ده۔

لِيَقْضِيَ اللّٰهُ اَمْرًا كَانَ مَفْعُوْلًا ۭ وَاِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ الْاُمُوْرُ ۝ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا لَقِيْتُمْ فِئَةً ع
فَاثْبُتُوْا وَاذْكُرُوا اللّٰهَ كَثِيْرًا لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ۝ وَاَطِيْعُوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَلَا تَنَازَعُوْا فَتَفْشَلُوْا
وَتَذْهَبَ رِيْحُكُمْ وَاصْبِرُوْا ۭ اِنَّ اللّٰهَ مَعَ الصّٰبِرِيْنَ ۝ وَلَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ خَرَجُوْا مِنْ
دِيَارِهِمْ بَطَرًا وَّرِئَاۗءَ النَّاسِ وَيَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۭ وَاللّٰهُ بِمَا يَعْمَلُوْنَ مُحِيْطٌ ۝ وَاِذْ

دے دپاره چه پوره کړی الله تعالی هغه کار چه وو مقرر شوے او خاص الله تعالی ته ورګرځیدلے شی ټول کارونه(٤٤) اے ایمان والو: کله چه مخامخ شئے یوډلے دَ کافرانو سره پس کلك کړئ ځانونه خپل اویا دوئ الله تعالی لره ډیر، دے دپاره چه کامیاب شئے(٤٥) اوتابعداری کوی دَ الله تعالی او دَ رسول(ﷺ) دهغه اومه کوئ اختلاف کورنئ کښ پس کمزوری به شئے تاسو اولاړه به شی دبدبه ستاسو اوصبر کوئے یقیناً الله تعالی ملګرے دَصبرناکو دے(٤٦) اومه کیږئ پشان دَهغے کسانو چه راوتل دَ کورونو خپلونه په لویئ کولو اوپه ځان خودنه سره خلقوته اوچه منع کوی خلق دَ لارے دَ الله تعالی نه او الله تعالی دَ دوی عملونو لره راګیروونکے دے (په علم او قدرت کښ)(٤٧) اوکوم وخت

[٤٤] دا ځلورم علت دے دپاره دَ دعوے حاصل ئیے دا دے چه په میدان جنګ کښ دواړه ډلے الله تعالی یو بل ته لږے لږے ښکاره کړے دے دپاره چه جنګ اوشی اوغنیمت حاصل شی نو غنیمت کښ جګړه مه کوئے ﴿اَمْرًا كَانَ مَفْعُوْلًا﴾ دے ایت کښ دَ دے نه مراد جنګ کول دی او په تیرشوی ایت (٤٢) کښ مراد دَ هغے نه فتح اوغلبه وه ﴿يُرِيْكُمُوْهُمْ﴾ ضمیردَ فاعل الله تعالی ته راجع دے۔

[٤٥] هرکله چه مخکښ ایاتونو کښ نعمتونه په صحابه کرامو باندے ذکرکړے شول چه هغه اسباب دَ قتال وؤنو اوس اداب دَ قتال ذکرکوی مخکښ حصه کښ پنځه قوانین ذکرشوی دی اودا بیان دَ شپږم قانون دے په درے ایتونو کښ اوپه دے کښ شپږخبرے دی دَ هغے نه دوه په دے ایت کښ دی اول داچه په میدان جنګ کښ ثابت قدم شئے دویم داچه الله تعالی ډیر یا دوئے دا دوه هم په حقیقت کښ کافی دی دَ کامیابئ دپاره ځکه دَ دے سره ﴿لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ﴾ ذکرشو ﴿وَاذْكُرُوا اللّٰهَ﴾ مراد دَ دے نه ذکردَ زړه اودَ ژبے دواړو دے خوشرط دا دے چه پټ به وی ځکه ابن کثیرحدیث مرفوع اوقرطبی دَ قیس بن عباد نه روایت راوړے دے چه اصحابودَ رسول الله ﷺ مکروه ګڼړل اوازونه راویستل په وخت دَ قتال کښ اوپه دے ذکرکښ دُعاګانے دَ طلب دَ نصرت اودَ غلبے هم داخل دی اوهغے ته ترغیب دے۔

[٤٦] په دے ایت کښ درے خبرے دی دَ جهاد دپاره اطاعت دَ الله تعالی اودَ رسول ﷺ اودَ اختلاف نه بچ کیدل اوصبرکول، اواختلاف سبب دے دَ کمزورئ اودَ زوال دَ طاقت اوصبر سبب دے دَ ملګرتیا دَ الله تعالی ﴿رِيْحُكُمْ﴾ په دے کښ دوه قولونه دی اول دا چه مراد دَ دے نه قوت اودبدبه ده په طریقه دَ تشبیه سره لکه چه ریح په هرځائے کښ ور داخلیږی نودارنګ قوت او دبدبه هم تاثیرکوی دویم قول دا دے چه مراد دَ دے نه معنیٰ حقیقی ده ځکه چه دَ مدد دَ الله تعالی سره هوا ګانے دَ امداد راځی۔

[٤٧] دے ایت کښ شپږمه خبره ده دپاره دَ جهاد چه مشابهت مه کوئے دَکافرانو سره په درے صفتونو کښ یوتکبرکول دَ حق نه دویم ریا کول په عمل سره دریم خلق دَ الله تعالی دَ لارے نه منع کول

زَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطٰنُ اَعْمَالَهُمْ وَقَالَ لَا غَالِبَ لَكُمُ الْيَوْمَ مِنَ النَّاسِ وَاِنِّيْ جَارٌ لَّكُمْ ۚ فَلَمَّا تَرَاۤءَتِ
الْفِئَتٰنِ نَكَصَ عَلٰى عَقِبَيْهِ وَقَالَ اِنِّيْ بَرِيْٓءٌ مِّنْكُمْ اِنِّيْٓ اَرٰى مَا لَا تَرَوْنَ اِنِّيْٓ اَخَافُ اللّٰهَ ؕ
وَاللّٰهُ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿٤٨﴾ ع اِذْ يَقُوْلُ الْمُنٰفِقُوْنَ وَالَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ غَرَّ هٰٓؤُلَآءِ دِيْنُهُمْ ؕ
وَمَنْ يَّتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ فَاِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿٤٩﴾ وَلَوْ تَرٰٓى اِذْ يَتَوَفَّى الَّذِيْنَ كَفَرُوا ۙ الْمَلٰٓئِكَةُ

چه ډولی کړل دوی ته شیطان عملونه دَ دوی او وئیل ئیے نیشته زوراور په تاسو باندے نن ورځ کښ هیڅوك دَخلقونه او یقیناً ځه امدادی ستاسو یم پس هرکله چه یوبل اولیدو دواړو ډلو نو واپس شو دے په پوندو خپلو او وئیل دهٔ یقیناً ځه جدایم ستاسونه یقیناً ځه وینم هغه شے چه تاسو ئے نه وینئے یقیناً ځه ویریږم دَ اللّٰه تعالیٰ دَ عذاب نه او اللّٰه تعالیٰ سخت عذاب ورکوونکے دے (٤٨) کله چه وئیل منافقانو او هغه کسانو چه په زړونو دَهغوی کښ شك وو چه دهوکه ورکړیده دے کسانوته دین دَ دوی او چاچه ځان اوسپارلو په اللّٰه تعالیٰ پس یقیناً اللّٰه تعالیٰ زوراور دے حکمتونو والا دے (٤٩) اوکه وینے ته(اے لیدونکیه) هغه وخت چه ساه اخلی دَکافرانونه ملائك

﴿بَطَرًا﴾ په اصل کښ وئیلے کیږی نعمتونه دَ اللّٰه تعالیٰ په ګناهونو کښ خرچ کولوته ﴿وَيَصُدُّوْنَ﴾ دائیے په فعل مُضارع سره ذکرکړو اشاره ده چه دَ دوی خروج په طریقه دَ بطر او ریاء سره خویوځل وؤ او منع کول دَ سبیل اللّٰه نه خودَ دوی همیشه عادت دے۔

[٤٨] دے ایت کښ پنځم علت دے دَ اولے دعوے۔ حاصل دا دے چه ابلیس په ورځ دَ بدر کافران زړه ورکړی وؤ بیا هرکله چه ملائك ئیے او لیدل نو اوتښتیدو۔ اواللّٰه تعالیٰ دوی کمزوری کړه او تاسوله ئیے غنیمت درکړو نو په هغے کښ اختلاف مه کوئے۔ روایت دَ بیهقی کښ راغلی دی چه ابلیس په ورځ دَ بدرپه شکل دَ سُراقه بن مالك کښ راغے (دا دَ یوے قبیلے سردار وؤ) اوابوجهل ته ئیے تیزی دَ جنګ ورکړه اولاس دَیومشرك ئیے نیولے ووچه حارث ابن هشام وو میدان جنګ ته لاړو هرکله چه دهٔ جبرائیل علیه السلام اولیدلونواویریدواو اوتښتیدو۔ دَ دے نه معلومه شوه چه شیطان کله دَ انسان په شکل باندے شی اوخلقوته تیزی ورکوی په ګناه سره او دادلیل دے په دے خبره چه شیطان ملائکو لره وینی۔ اودَ قتاده نه روایت دے چه ابلیس انی اریٰ مالاترون کښ رشتینے وؤ او انی اخاف اللّٰه کښ دروغژن وؤ۔

[٤٩] دا هم علت دے دپاره دَ اولے دعوے چه منافقینوپه تاسو پورے خندل لیکن اللّٰه تعالیٰ دَ هغوی خندا په خفګان بدله کړه اودا علت داخل دے په مخکښ پنځم علت کښ یعنی په هغے کښ ذکر شول محروم کیدل دَکافرانودَ خپل مقصدنه اوپه دے کښ ذکرکیږی خلاف کیدل دَګمان دَ منافقانونه ﴿الْمُنٰفِقُوْنَ﴾ نه مراد منافقان اعتقادی دَ مدینے وؤچه په ژبه دَایمان دعویٰ کوی اوپه زړه کښ پوره انکار لری ﴿وَالَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ﴾ مراد دَ دے نه شك والا وؤچه دَ مکے مکرمے اودَ نورو اطرافونه بدرته راغلی وؤ دوی هم کافران دی ځکه چه ایمان په شك سره نه حاصلیږی ﴿وَمَنْ يَّتَوَكَّلْ﴾ دا صفت دَ مجاهدینو دَ بدردے یعنی هغوی چه دَ ډیرو کافرانومقابلے ته راوتلی وؤ نودا دَ وجے دَ غرور نه نه وؤ بلکه دَ وجے دَ توکل نه وؤ۔

يَضْرِبُوْنَ وُجُوْهَهُمْ وَ اَدْبَارَهُمْ ۚ وَ ذُوْقُوْا عَذَابَ الْحَرِيْقِ ﴿٥٠﴾ ذٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْكُمْ
وَ اَنَّ اللّٰهَ لَيْسَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ ﴿٥١﴾ كَدَاْبِ اٰلِ فِرْعَوْنَ ۙ وَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ
فَاَخَذَهُمُ اللّٰهُ بِذُنُوْبِهِمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ قَوِيٌّ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿٥٢﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ لَمْ يَكُ مُغَيِّرًا نِّعْمَةً
اَنْعَمَهَا عَلٰى قَوْمٍ حَتّٰى يُغَيِّرُوْا مَا بِاَنْفُسِهِمْ ۙ وَ اَنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿٥٣﴾ كَدَاْبِ اٰلِ فِرْعَوْنَ ۙ

وهی مخونه دَهغوی اوشاګانے دَ هغوی (او ورته وائی) اوځکئ عذاب دَاُور سوزوونکی(٥٠) دا سزا په سبب دَهغے عملونو ده چه مخکښ کړیدی لاسونو ستاسو او یقیناً اللّٰه تعالیٰ نه دے هیڅ ظلم کوونکے په بندګانو باندے (٥١) حال دَ دوی پشان دَحال دَفرعونیانودے اوهغه کسان چه مخکښ وو دَ هغوی نه کفر کړے وو هغوی په آیتونو دَ اللّٰه تعالیٰ پس اونیول دوی لره اللّٰه تعالیٰ په سبب دَګناهونو دَ دوی یقیناً اللّٰه تعالیٰ قوت والادے سخت عذاب ورکوونکے دے(٥٢) دا عذاب په دے وجه دے چه اللّٰه تعالیٰ نه بدلوی نعمت لره چه کړے وی هغه په یوقوم باندے تردے چه دوی بدله کړی هغه عقیده چه په زړونو دَ دوی کښ ده اوپوهه شئے چه یقیناً اللّٰه تعالیٰ هرڅه اوری په هرڅه پوهه دے (٥٣) حال دَ دوی پشان دَحال دَفرعونیانو دے

[٥٠] مخکښ ایاتونو کښ حالات دُنیویه دَکافرانو اومنافقانوذکر شول نوپه دے ایت کښ یره ورکول دی دَ عذاب، په وخت دَ ځنکدن اوپه برزخ کښ او دا عذاب واقع شوے وؤپه هغه مشرکانوچه په بدرکښ اووژلے شول﴿يَضْرِبُوْنَ﴾ وهل دَ مخ اودَ دبرکښ ډیره بے عزتی راځی نوځکه دائے خاص کړل یا ترینه مراد هر طرف دے او داسے په ایت (٢٧) کښ هم دی ﴿عَذَابَ الْحَرِيْقِ﴾ سوز وؤنکے دَ ظاهر اوباطن دواړو دے۔

[٥١] دے ایت کښ اشاره ده چه دَ عذاب دوه سببونه دی یوبدعملونه دَ خلقو اودویم عدل دَ اللّٰه تعالیٰ داسے په سورة العمران(١٨٢) کښ هم ذکر دی ﴿اَيْدِيْكُمْ﴾ نه مراد دَ بدن ټول قوتونه دی لیکن اکثر عملونه په لاسونو سره کیږی ځکه ئے خاص ذکر کړل۔

[٥٢] په دے ایت کښ تشبیه دَ موجوده کافرانو ده دَ مخکنو کافرانوسره چه دَ هغوی عادت اودَ دوی عادت یوشان دے په کفر کولوکښ او دارنګ په عذاب دَ دُنیا اودَ برزخ کښ چه مخکښ ذکر شوپه باره دَ مشرکینودَ بدرکښ په دے کښ زیات قباحت شان دَ دوی ذکرکوی اوپدے کښ تفصیل دَ ما قدمت ایدیکم دے۔

[٥٣] دا تفسیردے دَ هغه جملے چه لیس بظلام للعبید، اودا سبب دے دَ عذاب چه مخکښ ایت کښ ذکرشو۔ جواب دَ سوال دے چه کفر خوپه دوی کښ دَ مخکښ نه موجود وؤ نوپه هغه وخت کښ ئے ولے عذاب نه ورکوؤ؟۔ حاصل جواب دا دے چه نفس کفرخو ناکاره حالت دے لیکن دَ هغے سرهٔ سرهٔ دوی ته امن وؤ۔ اوهرکله چه دوی ته نبی راغے او ایاتونه ورته راغلل نوکفر دَ دوی سخت شونو اللّٰه تعالیٰ دَ دوی نعمت په نقمت (غصه) سره بدل کړو۔ نو مراد دَ نِعمَةً نه هغه امن اوطعام وؤچه سرهٔ دَکفردَ دوی نه جاری وؤ او مراد دَ ﴿يُغَيِّرُوْا﴾ نه کفر بالایات والنبی دے یا مراد دَ نعمت نه عام دے فراخی، امن او صحت اودین دَ پیغمبر اودے ایت کښ اشاره ده چه تغیردَ دین دَ اللّٰه تعالیٰ سبب دَ عذاب دے ﴿يُغَيِّرُوْا مَا بِاَنْفُسِهِمْ﴾ مراد دَ دے نه بدلول دَ نیکوعملونو دی په بدعملونوسره یا بدلول دَکفر دی په زیات کفرسره

وَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ فَاَهْلَكْنٰهُمْ بِذُنُوْبِهِمْ وَاَغْرَقْنَآ اٰلَ فِرْعَوْنَ ۚ وَكُلٌّ كَانُوْا ظٰلِمِيْنَ ﴿٥٤﴾ اِنَّ شَرَّ الدَّوَآبِّ عِنْدَ اللّٰهِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فَهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿٥٥﴾ الَّذِيْنَ عٰهَدْتَّ مِنْهُمْ ثُمَّ يَنْقُضُوْنَ عَهْدَهُمْ فِيْ كُلِّ مَرَّةٍ وَّهُمْ لَا يَتَّقُوْنَ ﴿٥٦﴾ فَاِمَّا تَثْقَفَنَّهُمْ فِي الْحَرْبِ فَشَرِّدْ بِهِمْ مَّنْ خَلْفَهُمْ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُوْنَ ﴿٥٧﴾ وَاِمَّا تَخَافَنَّ مِنْ قَوْمٍ خِيَانَةً فَانْۢبِذْ اِلَيْهِمْ عَلٰى سَوَآءٍ ؕ

او دَ هغے کسانو چه مخکښ دَ دوی نه وو دروغژن کړی وو دوی آیتونه دَ رب خپل پس هلاك کړل مونږ دوی په سبب دَ ګناهونو دَ دوی او غرق کړل مونږ فرعونیان او دا ټول ووظالمان (٥٤) یقیناً بدتر دَ زنده سرونه په نیز دَ اللّٰه تعالیٰ هغه کسان دی چه کفرئے کړے دے پس دوی ایمان نه راوړی (٥٥) دا هغه کسان دی چه لوظ کړیدے تا دَ دوی سره بیاماتوی دوی لوظ خپل په هرځل کښ او دوی ځان نه ساتی (دَ نورو ګناهونو نه) (٥٦) پس که ته لاندے کړے دوی لره په جنګ کښ پس اویره وه په سبب دَ دوی روستو خلقو لره دے دپاره چه (داروستو خلق) نصیحت قبول کړی (٥٧) او که یریږے تهٔ دَ یو قوم نه دَ لوظ ماتولو پس خبر ورکړه دوی لره (دَ ختمولو دَ لوظ) چه شئے دواړه برابر

او هغه سبب دَ تغیر دَ حال دے دَ امن نه عذاب ته اوداسے په سورة رعد (١١) کښ هم راځی۔

[٥٤] دا ایت تکرار نه دے ځکه چه تیرشوی ایت کښ تشبیه وه په کفرکښ اوپه دے ایت کښ تشبیه ده په بد لولودَ نعمت کښ دارنګ مخکښ ایت کښ ذکردَ کفر وؤ اوپه دے ایت کښ ذکردَ تکذیب دے چه زیات کفردے اوپه هغے کښ ذکردَ اخذ اجمالی وؤ اوپه دے ایت کښ دَ هغے تفسیراوتفصیل دے په فاهلکتهم سره اواشاره ده چه عذابونه دَ مکذبینومخکنوپه مختلفو طریقوسره وؤ په سیلئی په رجفه په کانړو راوړولو سره اوپه اغراق سره نوعذاب دَ مشرکینودَ مکے په توره اوپه قتل سره راغے۔

[٥٥] هرکله چه صفت مشترکه دَ ټولوکافرانوذکرشوچه هغه ظلم دے نواوس یوصفت خاصه ذکرکوی دَ یونوع دَکافرانو چه په هغوی کښ ځلور قبائح دی اودا سبب هم دے دَ تیرشوی عذاب چه دا عذاب په دوی ځکه راغے چه دا شریرخلق دی اودَ دوی ځلور قبائح ئے ذکرکړیدی دوه په دے ایت کښ او دوه ورپسے ایت کښ ﴿لَا يُؤْمِنُوْنَ﴾ یعنی پابنه دی په کفربانډے دَ ایمان امید ترینه نیشته۔

[٥٦] دے ایت کښ دوه قبائح دَ دوی نور ذکر دی یو لوظ ماتول دویم عدم تقویٰ حاصل دا دے چه شریردَ خلقونه کافران اوشریردَکافرانونه ضدیان دی اوشریردَ ضدیانونه بے لوظه دی ﴿الَّذِيْنَ عٰهَدْتَّ﴾ اول مصداق دَ دے یهود دَ بنی نضیر اوبنو قریظه دی اومشرکین مکه دی اوبیا عام دے ﴿مِنْهُمْ﴾ دا لفظ دَ دے وجے نه دے چه عهد په اصل کښ دَ بعضو سره وی چه هغه مشران وی۔

[٥٧] دَ دے ځائے نه اخر پورے دویم باب دے دَ دے حصے پدیکښ قوانین دَ جهاد ذکرکوی په هغے کښ یوقانون عاموجاهدینو دپاره دے او نور دَ رسول اللّٰه ﷺ دپاره خاص دی او هغه دپاره دَ امیردَ جهاد هم دی اوپه اخرکښ پنځه اقسام دَ خلقو دی اودَ مؤمنانودپاره زیرے دے۔ دا اووم قانون دے مخاطب په دے سره رسول اللّٰه ﷺ دے اودَ هغه نائب چه امیردے مطلب دَ دے قانون سختی کول دی په جنګ کښ دَمشرکینوسره چه نورخلق ترینه عبرت واخلی ﴿فَشَرِّدْ بِهِمْ﴾ دا ذکردَ مسبب مراد ترینه سبب دے چه دوی

إِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْخَآئِنِيْنَ ﴿٥٨﴾ وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا سَبَقُوْا ط إِنَّهُمْ لَا يُعْجِزُوْنَ ﴿٥٩﴾
وَاَعِدُّوْا لَهُمْ مَّا اسْتَطَعْتُمْ مِّنْ قُوَّةٍ وَّمِنْ رِّبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُوْنَ بِهٖ عَدُوَّ اللّٰهِ وَعَدُوَّكُمْ
وَاٰخَرِيْنَ مِنْ دُوْنِهِمْ ج لَا تَعْلَمُوْنَهُمْ ج اَللّٰهُ يَعْلَمُهُمْ ط وَمَا تُنْفِقُوْا مِنْ شَيْءٍ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ
يُوَفَّ اِلَيْكُمْ وَاَنْتُمْ لَا تُظْلَمُوْنَ ﴿٦٠﴾ وَاِنْ جَنَحُوْا لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا وَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ ط إِنَّهٗ هُوَ

یقیناً اللّٰه تعالیٰ نه خوخوی خیانتگر (۵۸) اوگمان دِنه کوی کافران چه دوی به بچ شی یقیناً دوی نه شی عاجز کولے اللّٰه تعالیٰ لره (۵۹) اوتیارکړئے دَ دوی مقابلے لره څومره چه وس موکیږی دَسامان دَجنګ نه دَساتلے شوی اسونونه چه یروئ تاسوپه هغے سره دُشمن دَ اللّٰه تعالیٰ او دُشمن ستاسو اونور کسان سیوا دَهغوی نه(منافقان) چه نه پیژنئ تاسو هغوی لره، اللّٰه تعالیٰ پیژنی هغوی لره اوهغه چه خرچ کوئ تاسو څه شے په لار دَ اللّٰه تعالیٰ کښ نوپوره به درکړے شی تاسوته ثواب دَهغے اوپه تاسوبه هیڅ ظلم نه شی کیدے (٦٠) اوکه دوی مائل شو روغے ته پس ته هم مائل شه هغے ته اوتَوان سپاره په اللّٰه تعالیٰ باندے یقیناً اللّٰه تعالیٰ

سره داسے عمل اوکړه یعنی (قتل کول او ډیرے وینے تویول) چه سبب اوګرځی دپاره دَ یرولودَ روستو خلقو۔

[۵۸] تتمه ده دَ مخکښ قانون چه هرکله یو ډلے دَکافرانوسره جنګ کیږی او بلے ډلے سره لوظ کړے شوے وی دَ امن لیکن دَ هغوی نه معلومه شی چه دوی لوظ ماتوی نوهغوی لره به خبر ورکړے کیږی دَ لوظ دَ ختمیدلو ﴿تَخَافَنَّ﴾ مراد دا دے چه غالب ګمان کښ معلومه شی په علاماتوسره چه دوی لوظ ماتوی اودا قبیح کار دے نو واقع کیدلودَ مشکل کارته خوف وئیلے کیږی ﴿فَانْبِذْ اِلَيْهِمْ﴾ نبذ په معنیٰ دَ ترکِ عهد دے او لفظ دَ اِلَیهِم نه مراد دا دے چه دوی ته خبر اولیږه چه پس دَ دے نه لوظ ختم دے دپاره دَ دے چه دوی تاته دَ خیانت ګر نسبت اونکړی ﴿عَلٰى سَوَآءٍ﴾ یعنی چه تاسوته چه علم وی دَ ترک دَ عهد چه دغسے هغوی ته هم دا علم حاصل شی۔

[۵۹] دا زورنه ده منکرینو ته چه کله دوی بے لوظه شی نوعذاب دَ اللّٰه تعالیٰ نه نشی بچ کیدے۔ ﴿سَبَقُوْا﴾ په معنیٰ دَ ان یسبقونا سره دے ﴿اِنَّهُمْ﴾ دا علت دے دَ لایحسبن دپاره۔

[٦٠] دا اتم قانون دے دپاره دَ مجاهدینو مراد دَ دے نه تیاری کول دی دَ سامان جنګ اودَ پیاده فوج او دَ سُور فوج اودَ جنګ نه مخکښ په دے کښ فائده دا ده چه مشرکان اومنافقانوباندے به رعب وی ﴿مِنْ قُوَّةٍ﴾ مراد دَ قوت نه هرقسم سامان جنګ دے دَ هرے زمانے مناسب اوپه حدیث کښ الرمی (ویشتل) ذکر دی هغه یومثال دے دَ قوت دپاره اوهغه په دے زمانه کښ بمونه او میزائیل وغیره ویشتل اوجوړولودَ هغے ته شامل دی ﴿وَمَا تُنْفِقُوْا﴾ په دے کښ اشاره ده چه دَ جهاد په نیت څومره سامان باندے پیسے خرچ کړے شی نو هغه ثواب دے ﴿مِنْ رِّبَاطِ الْخَيْلِ﴾ اسونوته په هره زمانه کښ دَ جنګ دپاره ضرورت دے او دا معلومه خبره ده دَ دے وجے نه نبی ﷺ فرمائیلی دی ۔ اَلخَیلُ مَعقُودٌ فِی نواصیها الخیرُ اِلی یوم القیامة۔ (دَاسونو په تندوکښ ترقیامته پورے خیر ترلے شوے دے) نو خیر نه مراد جهاد اوغنیمت دے دلیل دے چه جهاد به ترقیامته پورے جاری وی ﴿لَا تَعْلَمُوْنَهُمْ﴾ داسے په سورۂ توبه (١٠١) کښ راځی۔

السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿٦١﴾ وَاِنْ يُّرِيْدُوْٓا اَنْ يَّخْدَعُوْكَ فَاِنَّ حَسْبَكَ اللّٰهُ ؕ هُوَ الَّذِيْٓ اَيَّدَكَ بِنَصْرِهٖ
وَبِالْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٦٢﴾ وَاَلَّفَ بَيْنَ قُلُوْبِهِمْ ؕ لَوْ اَنْفَقْتَ مَا فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا مَّآ اَلَّفْتَ بَيْنَ قُلُوْبِهِمْ
وَلٰكِنَّ اللّٰهَ اَلَّفَ بَيْنَهُمْ ؕ اِنَّهٗ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿٦٣﴾ يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ حَسْبُكَ اللّٰهُ وَمَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ
الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٦٤﴾ يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ حَرِّضِ الْمُؤْمِنِيْنَ عَلَى الْقِتَالِ ؕ اِنْ يَّكُنْ مِّنْكُمْ عِشْرُوْنَ صٰبِرُوْنَ ع ١٠
يَغْلِبُوْا مِائَتَيْنِ ۚ وَاِنْ يَّكُنْ مِّنْكُمْ مِّائَةٌ يَّغْلِبُوْٓا اَلْفًا مِّنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِاَنَّهُمْ قَوْمٌ

هرڅه اوری په هرڅه پوهه دے (٦١) اوکه دوی اوغواړی چه دهوکه کوی ستا سره پس یقیناً پوره دے تالره اللّٰه تعالیٰ، اللّٰه تعالیٰ هغه ذات دے چه کلك کړے ئے ته په مدد خپل اوپه ملګرتیا ډمؤمنانو(٦٢) اومینه ئے راوسته په مینځ ډزړونو ډ دوی کښ که خرچ کړے وے تاهغه ځیزونه چه په زمکه کښ دی ټول نه به وے پیداکړے تامینه په مینځ ډ زړونو ډ دوی کښ لیکن اللّٰه تعالیٰ مینه پیداکړه په مینځ ډ دوی کښ یقیناً اللّٰه تعالیٰ زور اور دے حکمتونو والا دے (٦٣) اے نبی(ﷺ) پوره دے تالره اللّٰه تعالیٰ اوهغه چالره چه تابعدار دی ستا ډایمان والونه (٦٤) اے نبی(ﷺ) تیزی ورکوه مؤمنانو لره په جنګ کولو باندے که وی ستاسونه شل کسان صبرناك نوغالب کیږی به په دووسوو اوکه وی ستاسونه سل کسان نوغالب کیږی به په زر کسانو ډکافرانونه په دے وجه چه دوی داسے قوم دے

[٦١] دا نهم قانون دے دپاره ډ جهاد اومطلب ډ دے دا دے چه مؤمنان به ډ صلح دعوت کافرانوته نه ورکوی اوکه کافران طلب کوی بیا صلح کول جائزدی ﴿فَاجْنَحْ﴾ دا امر دپاره ډ وجوب نه دے اوچه هغوی طلب نه وی کړے نوصلح کول منع دی۔ او هغے ته وهن وئیلے شی لکه چه په سورة محمد (٣٥) کښ دی۔

[٦٢] دا تعلق لری ډ محکښ ایت سره که دوی په صلح کولوکښ اراده ډ دهوکے لری نو(یره مه کوه ډ دوی نه) دا جزاء پته ده ﴿هُوَالَّذِیْ﴾ ئے بغیرډ عطف نه ذکرکړوځکه دا تفسیرډ حسبیت الٰهیه دے۔ فائده: بالمؤمنین سره اشاره ده مدحه ډ صحابه کراموته لکه په حدیث ډ اِختارَ اللّٰهُ لِی صحابة (اللّٰه تعالیٰ زما دپاره صحابه غوره کړیدی)۔

[٦٣] دا بیان ډ تائید دے په مؤمنانو سره چه هغه بغیرډ اتفاق نه نه حاصلیږی ﴿مَآ اَلَّفْتَ﴾ په دے کښ اشاره ده چه نبیﷺ ډ چا په زړه باندے قدرت نه لری نومختارکل نه دے۔

فائده: دا ایت دلیل دے په دے خبره چه ډ صحابه کراموپه مینځ کښ مینه او محبت وؤډ هغوی په مینځ کښ دشمنی نه وه نوهغه تاریخ چه ډ هغے نه ډُشمنی ډ صحابومعلومیږی هغه ډ دے خلاف دے هغے ته هیڅ اعتبار نیشته اوداسے په سورة العمران (١٠٣) او سورة فتح (٢٩) کښ هم راغلی دی۔

[٦٤] دا لسم قانون دے دپاره ډ امیر چه توکل په هر حالت کښ په اللّٰه تعالیٰ باندے پکار دے ځکه چه اللّٰه تعالیٰ کافی دے په هرحال کښ۔ **سوال:** دا خوتکرار دے ډ (٢٢) سره؟ **جواب:** هلته حسبیت خاصه مراد وؤ دپاره ډ دفع کولوډ ضرر ډ دشمنانونه اودلته عاموحالاتو کښ حسبیت مراد دے۔

لَا يَفْقَهُوْنَ ﴿٦٥﴾ اَلْـٰٔنَ خَفَّفَ اللّٰهُ عَنْكُمْ وَعَلِمَ اَنَّ فِيْكُمْ ضَعْفًا ؕ فَاِنْ يَّكُنْ مِّنْكُمْ مِّائَةٌ صَابِرَةٌ
يَّغْلِبُوْا مِائَتَيْنِ ۚ وَاِنْ يَّكُنْ مِّنْكُمْ اَلْفٌ يَّغْلِبُوْٓا اَلْفَيْنِ بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ مَعَ الصّٰبِرِيْنَ ﴿٦٦﴾ مَا
كَانَ لِنَبِيٍّ اَنْ يَّكُوْنَ لَهٗٓ اَسْرٰى حَتّٰى يُثْخِنَ فِى الْاَرْضِ ؕ تُرِيْدُوْنَ عَرَضَ الدُّنْيَا ۖ وَاللّٰهُ يُرِيْدُ

چه نه پوهیږی(٦٥)اوس اسانتیا راوسته الله تعالی په تاسو باندے اوپوهه شوچه په تاسوکښ کمزور تیاده پس که وی ستاسونه سل کسان صبر ناك غالب کیږی به په دوو سوو اوکه وی ستاسو نه زرکسان غالب کیږی به په دوو زرو په امداد دَ الله تعالی او الله تعالی خاص ملګرے دے دَصبرناکو (٦٦) نه دی مناسب نبی لره چه وی دِ هغه لره قیدیان تردے پورے چه وینی توے کړی په زمکه کښ ډیر غوارئے تاسو سامان دَ دُنیا او الله تعالی غواړی

[٦٥] دا یؤولسم قانون دے دپاره دَ امیرحاصل دا دے چه نبیﷺ اوبیا امیر باندے لازم دی چه مجاهدینو ته داسے تیزی ورکړی په جهاد باندے چه یوکس مقابله دَ لسوتنوکولے شی اوکه داسے نشی کولے نوکم ازکم یوکس دے دَ دوؤ کسو مقابله کوی دا فرض دی نوپه ﴿حَرِّضِ﴾ سره ئیے دا قانون ذکر کړو لکه په سورة نساء(٨٤)کښ او ﴿اِنْ يَّكُنْ مِّنْكُمْ﴾ سره طریقه دَ تحریض ذکرکړیده۔ سوال: دَ دے ایت مقصد دا دے چه یوپه لس باندے مقابله کوئے نو دومره اوږد عبارت ئیے ولے ذکرکړو؟ جواب: په ابتداء دَ اسلام کښ دَ صحابوشمار کم وؤ نواکثرسرےّ به دَ شلونه زیاتے ترسلوپورے تعداد باندے مشتمل وے ﴿صَابِرُوْنَ﴾ شربینی وئیلی دی چه دَ دے حکم شرط صبر دے اومراد دَ صبرنه دا دے چه بدن ئیے قوی اوسالم اندامونو والا وی او زړه ئیے کلك اوشجاع وی اودا رنګ ایمان ئیے مضبوط وی اوپابند وی دَ هغه قوانینو چه په دے سورة کښ بیان شوی دی اوهرکله چه یوکرت دا صفت ذکر شو نودویم کرت دَ مائة سره ذکرکولوته حاجت نیشته۔

[٦٦] دا ایت په نیزدَ مقدمینو علماؤ ناسخ دے دَ محکمښ ایت دپاره اوپه نیزدَ روستو علماؤ دا تخفیف دے اودا غوره خبره ده یو وجه دا ده چه ایت کښ لفظ دَ خفف موجود دے ﴿وَعَلِمَ اَنَّ فِيْكُمْ ضَعْفًا﴾ مراد دَ دے نه کمزوروالے دَ همت دے لیکن دا صفت دَ بدئے نه دے بلکه دلالت کوی په دے خبره چه دَ صحابو په درجاتوکښ فرق وؤ اوسفیان بن شبرمه وئیلی دی چه دَ امر بالمعروف والنهی عن المنکرهم دا حکم دے چه په دے ایت کښ ذکردے۔

فائده: دَ اول ایت په اخرکښ سبب ذکرکړوعدم فقاهت دَکافرانو اومراد دَ هغے نه جهل دَ توحید اودَ ایمان بالرسول اوقرآن او اخرت نه دے اوپه طریقه دَ مفهوم سره معلومه شوه چه مؤمنان مجاهدین په فقاهت سره موصوف دی اودَ دے صفت دَ وجود سره زیات تعداد ته حاجت نیشته۔ اودویم ایت کښ سبب ﴿بِاِذْنِ اللّٰهِ﴾ او ﴿مَعَ الصّٰبِرِيْنَ﴾ ذکرکړے دے اشاره ده چه دَ صفت دَ فقاهت نه اذن دَ الله اوصبر اونصرت الٰهی ډیر ضروری دے۔

الْاٰخِرَةَ ؕ وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿٦٧﴾ لَوْلَا كِتٰبٌ مِّنَ اللّٰهِ سَبَقَ لَمَسَّكُمْ فِيْمَآ اَخَذْتُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿٦٨﴾
فَكُلُوْا مِمَّا غَنِمْتُمْ حَلٰلًا طَيِّبًا ۪ وَّاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٦٩﴾ يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِّمَنْ فِيْٓ
اَيْدِيْكُمْ مِّنَ الْاَسْرٰٓى ۙ اِنْ يَّعْلَمِ اللّٰهُ فِيْ قُلُوْبِكُمْ خَيْرًا يُّؤْتِكُمْ خَيْرًا مِّمَّآ اُخِذَ مِنْكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ؕ

آخرت (ستاسو دپاره) او الله تعالیٰ زور اور دے حکمتونو والا دے(٦٧) که نه وے حکم دَ الله تعالیٰ چه مخکښ فیصله شویده نوخامخا رسیدلے به وے تاسوته په وجه دَهغه مال چه واخستو تاسو (دَفدیانونه په فدیه کښ) عذاب لوئے(٦٨) پس خورئے دَهغه مال نه چه غنیمت کښ واخست تاسو حلال پاك اویره کوئ دَ الله تعالیٰ نه یقیناً الله تعالیٰ دے بخونکے رحم کوونکے (٦٩) اے نبی(ﷺ) اووایه هغه چاته چه ستاسو په لاسونو کښ دی دَفدیانونه که معلوم کړو الله تعالیٰ په زړونو ستاسو کښ ایمان نودربه کړی تاسوته غوره دَهغه مال نه چه اخستے شویدے ستاسونه اوبخنه به اوکړی تاسوته

[٦٧] دا دولسم قانون دے دَ امیرډپاره حاصل ئے دا دے چه په ابتداء کښ دَکافرانو قتلول ضروری دی دَ دے دپاره چه رُعب قائم شی په دُشمنانو۔دا ایت نازل شوے وؤ په واقعه دَ بدرکښ چه کله په هغے کښ دَکافرانونه اویاکسان په قیدکښ راوستے شول اوتردغه وخته پورے دَ قیدیانو په باره کښ حکم شرعی نه وؤ نازل شوے نونبیﷺ دَ صحابو سره مشوره اوکړه نوبعضو رائے پیش کړه چه دا ټول قتلول پکاردی اوبعضو رائے پیش کړه چه دَ دوی نه به فدیه واخلو اوپه هغے به ځان له سامان جنګ واخلونو رسول اللّٰهﷺ په دے روستنئے رائے اتفاق اوکړو اودَ هغوی نه فدیه واغستے شوه۔ نودا ایت نازل شوچه دا سے کول نه وؤ پکار﴿لِنَبِيٍّ﴾ ئے نکره راوړه اشاره ده چه دا حکم ټولو انبیاؤ ته دے ﴿اَسْرٰى﴾ یعنی داسے قیدیان چه په فدیه ورکولوسره خلاصیږی بغیرد قتل نه نو په دے کښ اشاره ده چه قتل دَ مشرکانودَ بدر غوره وؤ دَ فدیے اخستلو او پریخودلو دَ هغوی نه۔ اودا واقعه دلیل دے چه نبیﷺ په وخت دَ عدم وجود دَ وحی کښ رجوع کړے ده اجتهاد ته چه طریقه دَ هغے شوریٰ کول دی اوهرکله چه دا اجتهادی فیصله الله مسترد نه کړه صرف اولیٰ جانب ته ئے توجّه ورکړه نومعلومه شوه چه اجتهاد دَ نبی هم وحی ده ﴿تُرِيْدُوْنَ﴾ دلته خطاب صرف صحابو ته اوشو دپاره دَ لحاظ دَ ادب دَ نبیﷺ۔

[٦٨] دا جواب دَ یو سوال دے، چه هرکله دوی دا فدیه واخستله نوګنهګار شول نو پکار وؤچه په دوی عذاب راغلے وے؟ دَ جواب حاصل دا دے که الله تعالیٰ دَ مخکښ نه قانون نه وے ایښودے نو واقعی عذاب به راغلے وے لیکن الله تعالیٰ قانون ایښودے دے هغه داسے دے چه عذاب چا لره نه ورکوی تر هغے چه مخکښ نه دغه حکم نه وی رالیږلے بل دا قانون چه الله تعالیٰ دے اُمت دپاره مال غنیمت حلال کړے دے او بل دا قانون چه الله تعالیٰ بدر والامجاهدین ټول بخلی دی۔

[٦٩] هرکله چه بعض صحابه کرامو دَ دے زورنے نه روستودَ هغے فدئیے دَ استعمالولونه نفرت کوؤ نودا ایت نازل شوچه نفرت مه کوئے دا مال غنیمت دے اوحلال دے ﴿فَكُلُوْا﴾کښ فاء دَ سببیت وه اوشرط محذوف دے یعنی لماابیحت لکم الغنائم (هرکله چه حلال کړے شو ستاسو دپاره غنیمتونه)۔

وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٧٠﴾ وَاِنْ يُّرِيْدُوْا خِيَانَتَكَ فَقَدْ خَانُوا اللّٰهَ مِنْ قَبْلُ فَاَمْكَنَ مِنْهُمْ ؕ
وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿٧١﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَهَاجَرُوْا وَجٰهَدُوْا بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ فِيْ سَبِيْلِ
اللّٰهِ وَالَّذِيْنَ اٰوَوْا وَّنَصَرُوْٓا اُولٰٓئِكَ بَعْضُهُمْ اَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ؕ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَلَمْ يُهَاجِرُوْا
مَا لَكُمْ مِّنْ وَّلَايَتِهِمْ مِّنْ شَيْءٍ حَتّٰى يُهَاجِرُوْا ۚ وَاِنِ اسْتَنْصَرُوْكُمْ فِي الدِّيْنِ
فَعَلَيْكُمُ النَّصْرُ اِلَّا عَلٰى قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ مِّيْثَاقٌ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿٧٢﴾ وَالَّذِيْنَ

او اللّٰه تعالیٰ بخونکے دے رحم کوونکے دے (۷۰) او که دوی غواړی دهوکه ستاسره پس یقیناً دهوکه کړیوه دوی دَ اللّٰه تعالیٰ سره دَ دینه مخکښ پس قدرت ئے درکړو تاسولره په دوی باندے او اللّٰه تعالیٰ پوهه دے حکمتونو والا دے (۷۱) یقیناً هغه کسان چه ایمان ئے راوړیدے اوهجرت ئے کړیدے اوجهادئے کړے دے په مالونو خپلو سره اوپه نفسونو خپلو سره په لار دَ اللّٰه تعالیٰ کښ او هغه کسان چه ځائے ورکړیدے (مهاجرینو لره) اوامداد ئے کړیدے دغه کسان بعضے دَدوی دوستان دَ بعضو دی اوهغه کسان چه ایمان ئے راوړیدے اوهجرت ئے ندے کړے نیشته تاسولره دَ دوستانے دَهغوی نه هیڅ حق تردے چه هغی هجرت اوکړی او که مدد غواړی ستاسونه په باره دَ دین کښ پس لازم دے پتاسو باندے مدد کول دَهغی سره مګر په مقابله دَهغے قوم کښ چه په مینځ ستاسو اوپه مینځ دَهغوی کښ وعده وی (دَامن) او اللّٰه تعالیٰ ستاسو په هغه عملونو چه تاسوئے کوئ لیدونکے دے (۷۲) اوهغه کسان

[۷۰] دا دیارلسم قانون دے دَ امیر دپاره حاصل دا دے چه په داسے قیدیانو کښ څوك دعویٰ دَ ایمان کوی دپاره دَ دے چه دَ فدئیے ورکولو نه خلاص شی نو هغه ته او وایه چه فدیه ورکول په تالازم دی او که دعویٰ دَ ایمان صحیح وی نواللّٰه تعالیٰ به دَ دے ډیرعوض درکړی او دا خبره په واقعه دَ بدرکښ عباس ﷺ ته پیش راغلے وه اګر چه ایت عام دے اوحکمت دَ دے قانون دا دے که په دعویٰ دَ ایمان سره یوتن دَ فدیئے نه معاف کړے شی نوداسے به هر یو دعویٰ کوی اوصفت دَ ایمان خوښ دے نوهریوته به فدیه معاف کړے شی نو قانون دَ فدیئے عبث اومهمل ګرځی۔

[۷۱] ﴿خَانُوا اللّٰهَ﴾ دَ خیانت نه مراد کفراوشرك دَ دوی دے اوجنګ کول دی دَ مسلمانانوسره ﴿مِنْ قَبْلُ﴾ مخکښ دَ واقعے دَ بدرنه ﴿فَاَمْكَنَ مِنْهُمْ﴾ مراد دَ دے نه غلبه دَ مؤمنانو ده په کافرانوباندے په بدرکښ۔

[۷۲] هرکله چه قوانین دَ جهاد تفصیلی بیان شول نو اوس مجاهدینوته یوبل سره دَ ولایت اودَ نصرت کولو ترغیب ورکوی دپاره دَ دے چه دَ دوی په محبت سره په کافرانو باندے رعب پریوځی۔ په دے ایت کښ دَ مؤمنانو درے قسمه ذکر دی اودَ هغے احکام۔ یوقسم مهاجرین، دویم قسم انصار دَ دے دواړوحکم دا دے چه دوی به یوبل سره پوره دوستانه ساتی او پوره امداد به کوی دا معنیٰ دَ ولایت ده۔ دریم قسم مؤمنان غیرمهاجرین دی دَ هغوی حکم دا دے چه هغوی سره دوستانه اوهرقسم مدد نه دے جائزدَ وجے دَ عدم هجرت نه مګرکه هغوی دَ دین په باره کښ څه مدد غواړی نو امداد ورسره پکار دے خوپدے شرط سره چه دَ نورو معاهدینو سره مقابله نه کوی۔

كَفَرُوْا بَعْضُهُمْ اَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ؕ اِلَّا تَفْعَلُوْهُ تَكُنْ فِتْنَةٌ فِي الْاَرْضِ وَفَسَادٌ كَبِيْرٌ ﴿٧٣﴾
وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَهَاجَرُوْا وَجٰهَدُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَالَّذِيْنَ اٰوَوْا وَّنَصَرُوْٓا اُولٰٓئِكَ هُمُ
الْمُؤْمِنُوْنَ حَقًّا ؕ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّرِزْقٌ كَرِيْمٌ ﴿٧٤﴾ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْۢ بَعْدُ وَهَاجَرُوْا وَجٰهَدُوْا مَعَكُمْ
فَاُولٰٓئِكَ مِنْكُمْ ؕ وَاُولُوا الْاَرْحَامِ بَعْضُهُمْ اَوْلٰى بِبَعْضٍ فِيْ كِتٰبِ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿٧٥﴾ ع

چه کفرئے کړیدے بعضے دَ دوی ملګری دی دَبعضو او که اونکړئے تاسو دا امدادنو پیدابه شی فتنه په زمکه کښ اوفساد لوئے (٧٣) اوهغه کسان چه ایمان ئے راوړیدے او هجرت ئے کړیدے اوجهادئے کړیدے په لار دَ اللّٰه تعالیٰ کښ او هغه کسان چه ځائے ئے ورکړیدے مهاجرینو لره اومدد ئے کړیدے هغوی سره دغه کسان دوی مؤمنان دی یقیناً دوی لره بخنه ده او رزق عزتمند دے(٧٤) اوهغه کسان چه ایمان ئے راوړیدے دَهغی نه روستو او هجرت ئے کړیدے اوجهادئے کړے دے په ملګرتیا ستاسو کښ پس دغه کسان ستاسو دَ ډلے نه دی اویو نسب والا خپلوان بعضے دَ دوی حقدار دی (دَ میراث) دَبعضو په حکم دَ اللّٰه تعالیٰ کښ یقیناً اللّٰه تعالیٰ په هرشیز باندے پوهه دے (٧٥)

[٧٣] پدیکښ ځلورم قسم دَ خلقو ذکر دے چه هغه کافران دی اومقصد ئیے دا دے چه هغوی دَ یو بل سره امداد کوی په کفرکښ نوتاسو ولے دَ یوبل سره امداد نه کوئ په اسلام کښ مراد دَ ولایت دَکافرانو نه دَ یوبل سره مشابهت دے په کارونودَ کفرکښ اومدد او ډله کول دَ یوبل سره اودَ دویمے جملے مطلب دا دے که تاسودَ یوبل سره په دین کښ امداد اونکړئے نودے نه به فتنه پیدا شی په غلبے دَکافرانو سره په مسلمانانو باندے اولوئے فساد به جوړشی په شرك عام کیدلو سره۔

[٧٤] دے ایت کښ زیرے دے مؤمنانو ته اوشان دَ صحابه کرامو ذکر دے چه هغوی یقینی اوکامل مؤمنان دی اوهغوی بخلے شوی دی دَ دے سورة په اول کښ پنځه صفات ذکر وؤ اوبیا دا جمله ذکر وه چه ﴿اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ حَقًّا﴾ نودَ دے ایت اودَ هغه ایت دَ اتصال نه دا نتیجه راووتله چه مهاجرین اوانصارپه هغه پنځه صفتونوسره متصف دی اودَوی مستحق دَ هغه بشارت دی چه په اول دَ سورة اوپه دے ایت کښ ذکردے نودَ دے وجے نه لعنت دے په هغه چاچه صحابه کراموته بدوائی اوپه هغی طعن کوی۔

[٧٥] په دے ایت کښ ذکردَ هغه صحابه کرامو دے چه هغوی پس دَ فتحے نه ایمان راوړے دے اوهجرت اوجهاد ئیے کړے دے نودوی دَ مخکښوصحابو کراموپه جماعت کښ شماردی اودَ فتح نه مراد یا دَ حدیبیه صلح ده چه په شپږم کال دَ هجرت شوے وه یا فتح دَ مکے ده چه په اتم کال دَ هجرت شوے وه﴿وَاُولُوا الْاَرْحَامِ﴾ مطلب دَ دے دا دے چه میراث په سبب دَ نسب سره وی په سبب دَ دوستانے سره نه وی۔

بَرَآءَةٌ مِّنَ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖٓ اِلَى الَّذِيْنَ عٰهَدْتُّمْ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ ۝١ فَسِيْحُوْا فِي الْاَرْضِ اَرْبَعَةَ

اعلان دَ جدائے دے دَطرف دَ اللّٰه تعالیٰ او دَ رسول(ﷺ) نه هغے خلقوته چه لوظ ورسره کړیدے تاسو دَ مشرکانونه (اولوظ ئے مات کړیدے) (١) پس اوګرځئ په زمکه کښ څلور

سورة التوبة

ربط : دَ دے سورة دَ مخکښ سره په ډیرو طریقوسره دے اوله طریقه دا ده هرکله چه سورة انفال کښ قاعدے دَ جهاد بیان شوے نوپدے سورة کښ اعلان جهاد دے۔ دویمه طریقه دا ده چه سورة انفال کښ صرف اعلان دَ جهاد وؤ نوپدے سورة کښ ذکردَ هغه ډلودے چه دَ هغوی سره جهاد کیدے شی۔

دعویٰ دَ دے سورة : قتال کول دَ مشرکینواو دَکتابیانو سره اوجهاد کول دَ منافقینوسره اودا شپږکرته ذکرشوے ده (١٤،٥،٢٩،٣٦،٧٣،١٢٣) کښ۔ اومسئله دَ توحید دَ سورت په اخرکښ ذکرده په (٣١،١١٦،١٢٩) کښ اواسماء حسنیٰ دَ اللّٰه تعالیٰ پدیکښ (١٣) ذکردی۔

خلاصه دَ سورة : پدے سورة کښ څلورحصے دی اوله حصه کښ ذکرِ دَ قتال دَ مشرکانو دے اودویمه حصه کښ ذکردَ قتال دَکتابیانودے اودریمه حصه کښ عیبونه دَ منافقانودی اوځلورمه حصه کښ صفات دَمؤمنانو دی اوله حصه (٢٨) ایت پورے ده په دے کښ ذکردَ درے قسمو مشرکانو دے او رد دے په څلورو موانعودَ قتال باندے اودیارلس علتونه دَ قتال ذکر دی او ترغیب دے جهاد ته۔

فائده:دَ دے سورة په ابتداء کښ دَ بسم اللّٰه دَ نه لیکلویو سبب دا دے چه دَ دے په ابتداء کښ بسم اللّٰه نه وه نازل شوے دویم سبب حدیث دَ عثمان﵁ دے چه روایت کړے دے ترمذی اوابوداؤد اونقل کړے دے صاحب مشکوٰة په صفحه (١٩٤) کښ چه دَ هغے حاصل دا دے چه دَ دے سورة راوړل په سورة انفال پسے اجتهادی مسئله ده دَ دے احتمال دَ وجے نه چه دا سورة دَ مخکنی سورة جزء دے دَ ډیرمناسبت دَ وجے نه ځکه بسم اللّٰه دَ دے په سر کښ اونه لیکلے شوه۔ اودَ دے احتمال دَ وجے نه چه مستقل سورة دے نو نوم دَ سورة په اول کښ اولیکلے شو۔ اودارنګ دَ بسم اللّٰه دَ نه لیکلویوحکمت دا دے چه بسم اللّٰه دپاره دَ امن ده اودا سورة دپاره دَلرکولو دَ امن دے۔ دویم حکمت دا دے چه طریقه داوه چه چاته به خط دَ اعلان جنګ لیکلے کیدونو دَ هغے په سرکښ به بسم اللّٰه نه وه۔

تفسیر

[١] په دے اول ایت کښ اوله ډله دَ مشرکینو ذکر ده چه هغوی ته محاربین وائي ځکه چه هغوی عهدمات کړے دے اوهغه پکښ هم داخل دی چه دَ هغوی سره عهد غیرمؤجل وؤ۔ اودَ هغے یوحکم برائت دے اومراد دَ برائت نه هر قسم امن اوذمه لرے کول اوهر تعلق قطع کول دی اودَ هغے بیان په (٥،١٢،١٥،١٧،٢٣،٢٨،٣٦،٧٣،١١٣) کښ دے۔

اَشْهُرٍ وَّاعْلَمُوْٓا اَنَّكُمْ غَيْرُ مُعْجِزِى اللّٰهِ ۙ وَاَنَّ اللّٰهَ مُخْزِى الْكٰفِرِيْنَ ۝٢ وَاَذَانٌ مِّنَ اللّٰهِ وَ
رَسُوْلِهٖٓ اِلَى النَّاسِ يَوْمَ الْحَجِّ الْاَكْبَرِ اَنَّ اللّٰهَ بَرِىْٓءٌ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ ۙ وَرَسُوْلُهٗ ؕ فَاِنْ تُبْتُمْ
فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۚ وَاِنْ تَوَلَّيْتُمْ فَاعْلَمُوْٓا اَنَّكُمْ غَيْرُ مُعْجِزِى اللّٰهِ ؕ وَبَشِّرِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِعَذَابٍ
اَلِيْمٍ ۝٣ اِلَّا الَّذِيْنَ عٰهَدْتُّمْ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ ثُمَّ لَمْ يَنْقُصُوْكُمْ شَيْـًٔا وَّلَمْ يُظَاهِرُوْا عَلَيْكُمْ

میاشتے او پوهه شئے چه یقیناً تاسو نه شئ کمزورے کولے الله تعالیٰ لره اویقیناً الله تعالیٰ شرمو ونکے دے کافرانو لره (۲) او اعلان دے دَ طرف دَ الله تعالیٰ او دَ رسول(ﷺ) دَهغه نه خلقوته په ورځ دَ حج لوئے چه یقیناً الله تعالیٰ جدادے دَ مشرکانونه او رسول(ﷺ) دَهغه (هم جدادے) پس که تاسو توبه ویستله (دَشرك نه) پس دابه غوره وی تاسو لره اوکه تاسو مخ وارڑئو پوهه شئے چه یقیناً تاسونه شئ کمزورے کولے الله تعالیٰ لره اوزیږے ورکړه کافرانو لره په عذاب درد ناك سره (۳) مګر هغه کسان چه لوظ کړے وو تاسو دَهغوی سره دَ مشرکانونه بیائے کمے نه دے کړے ستاسونه هیڅ او امداد ئے هم نه دے کړے ستاسو مقابله کښ

[۲] په دے ایت کښ دَ هغے مشرکینودویم حکم دے چه هغه مهلت دَ ځلورو میاشتودے۔ شوال، ذوالقعده، ذوالحجة اومحرم ځکه چه دَ ازهری نه نقل دے چه دا سورة دَ شوال په اول کښ نازل شویدے دویم قول دا دے چه دَ حج اکبردَ ورځ نه ځلور میاشتے به حسابیږی تر اخردَ ربیع الثانی پورے لیکن اول قول غوره دے په قرینه دَ ایت (۵) سره۔ اودا مهلت دپاره دَ فکرکولودے دپاره دَ دے چه ایمان راوړی۔ ﴿وَاعْلَمُوْٓا﴾ په دے سره دوه وهمونه دفع کوی اول وهم دا چه ایا دا مهلت دَ وجے دَ عجزدَ الله تعالیٰ نه دے دَ دوی دَ مقابلے نه؟ جواب: اوشوپه ﴿اَنَّكُمْ غَيْرُ﴾ سره۔ دویم وهم دا دے چه دا مهلت دلالت کوی دَ دوی په اکرام اوپه عزت باندے؟ نوجواب اوشو ﴿وَاَنَّ اللّٰهَ مُخْزِى الْكٰفِرِيْنَ﴾۔

[۳] په دے ایت کښ اعلان دَ برائت ذکردے روستودَ فیصلے دَ برائت نه مشرکینو محاربینوته چه هغوی لوظ کړے وؤ۔ بیا هرکله چه دا اعلان په ورځ دَ حج باندے دے اودَ هغے نه ترمحرم پورے ځلور میاشتے نه وے پاتے نوځکه دے ایت کښ دَ ځلورو میاشتوذکرنه دے شوے۔ سوال: اول ایت کښ الی الذین عاهدتم اه ذکردے اوپه دے کښ الی الناس ذکردے؟ جواب: هغه برائت خاص دے په هغه معاهدینو پورے چه لوظ ئے مات کړے وؤ اودا اعلان عام دے ټولو مشرکانوته که معاهدوی او که نه وی بلکه دَ اعلان په اوریدلو کښ مؤمنان هم شامل دی ﴿وَرَسُوْلُهٗ﴾ دا په رفع (پیښ) سره دے مبتداء ده خبرئے خذف دے یا عطف دے په محل دَ اسم دَ اَنَّ باندے ﴿فَاِنْ تُبْتُمْ﴾ په دے کښ ترغیب دے توبه کولو ته په زمانه دَ مهلت کښ ﴿فَاعْلَمُوْٓا﴾ په دے کښ تهدید مقصد دے اوپه ایت (۲) کښ دفع دَ وهم مقصد وه لکه چه مخکښ تیر شول ﴿وَبَشِّرِ﴾ بشارت ئے په طریقه دَ تهکم (مسخرے) سره وئیلے دے ﴿بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ﴾ په دنیاکښ په قتل اوقیدکولوسره اوپه اخرت کښ په عذاب ابدی سره۔

اَحَدًا فَاَتِمُّوْٓا اِلَيْهِمْ عَهْدَهُمْ اِلٰى مُدَّتِهِمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِيْنَ ۝٤ فَاِذَا انْسَلَخَ الْاَشْهُرُ
الْحُرُمُ فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِيْنَ حَيْثُ وَجَدْتُّمُوْهُمْ وَخُذُوْهُمْ وَاحْصُرُوْهُمْ وَاقْعُدُوْا لَهُمْ كُلَّ مَرْصَدٍ ۚ
فَاِنْ تَابُوْا وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتَوُا الزَّكٰوةَ فَخَلُّوْا سَبِيْلَهُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝٥ وَاِنْ اَحَدٌ
مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ اسْتَجَارَكَ فَاَجِرْهُ حَتّٰى يَسْمَعَ كَلٰمَ اللّٰهِ ثُمَّ اَبْلِغْهُ مَاْمَنَهٗ ؕ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَوْمٌ

ډهيجا سره پس پوره کړئ ډهغوی سره لوظ ډهغوی ترمودے ډهغوی يقيناً الله تعالیٰ خوخوی بچ کيدونکی (ډے لوظئے نه)(٤) پس هرکله چه تيرے شی مياشتے عزت والا نو وژنئے مشرکان کوم ځائے چه مومئے تاسو هغوی لره اونيسئے دوی لره او راګيروئ دوی لره او کينئ دوی ته په هره مورچه کښ پس که دوی توبه کړه (ډشرك نه) او پابندی ئے اوکړه ډمانځه او ورکوؤئے زکوٰة پس خالی کړئ لار ډ دوی يقيناً الله تعالیٰ بخونکے رحم کوونکے دے (٥) اوکه يوتن ډ مشرکانونه امن اوغواړی ستانه (دپاره ډ داخليدلو داراسلام ته) پس امن ورکړه هغه لره تردے پورے چه واوری کلام ډ الله تعالیٰ بيا او رسوه هغه ځائے ډامن ډهغه ته دا په دے وجه چه دوی داسے قوم دے

[٤] په دے ايت کښ دويم قسم مشرکان ذکردی اوهغوی ته معاهدين وائي په عهد مؤجل سره ځکه چه هغوی خپل عهد نه وؤ مات کړے او هغه دوه قبيلے وے يو بنوضمره دويم کنانه، ډ هغوی حکم دا دے چه ډ هغوی عهد پوره کړئ ترهغے مودے پورے کوم چه مقررشوے وه اودډ هغوی په عهدکښ نهه مياشتے باقی پاتے وے۔ ليکن ډ هغوی دپاره دوه شرطونه دی(١) لم ينقصوکم (٢) لم يظاهروا۔ اوحکم ډ هغوی ذکر دے په دے قول سره چه ﴿فَاَتِمُّوْٓا﴾ او ﴿اِنَّ اللّٰهَ﴾ دا علت دے ډ اَتِمُّوْا دپاره او دا دليل دے چه په عهد باندے وفا کول عمل ډ تقویٰ دے۔

[٥] په دے ايت کښ بل حکم ډ اولے دلے ذکر دے مطلب ئے دا دے کله چه موده ډ مهلت (چه ځلورمياشتے وے) او اخری مياشت ډ هغے محرم وه تيرے شی نودوی سره قتال کوئے ﴿وَخُذُوْهُمْ﴾ مراد ډ دے نه قيدکول دی بيا خوښه ډ اميرده که قتلوی ئے اوکه فديه ترے اخلی اواحسانی ئے پريږدی۔ ﴿وَاحْصُرُوْهُمْ﴾ ډ دے يومعنیٰ دا ده چه ډ دوی ډ قلعه ګانونه محاصره اوکړئے او راګيرئے کړئے ﴿وَاقْعُدُوْا لَهُمْ كُلَّ مَرْصَدٍ﴾ مراد دا دے چه ډ دوی لارے بندے کړئے دپاره ډ دے چه په داراسلام کښ ازاد اونګرځی ﴿تَابُوْا﴾ توبه ډ کفر اوشرك نه چه ډ هغے نه په حديث کښ تعبيرکړے شوے دے په يشهدوا ان لااله الا الله و ان محمداً رسول الله سره ﴿وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ﴾ دا دليل دے په دے خبره چه ډکافر صرف په توبه لفظ باندے اعتبار نه شی کيدلے ځوپورے چه داعملونه ورسره نه وی يوځائے کړی دپاره ډ تحقيق ډ توبے ﴿وَاٰتَوُا الزَّكٰوةَ﴾ ابن کثير وئيلی دی چه ابوبکرؓ ډ زکوٰة منع کوؤنکوسره ډ قتال دپاره په دے ايت سره دليل نيولے وؤ ﴿فَخَلُّوْا﴾ مراد ډ دے نه عصمت ډ وينواومالونو ډ هغوی دے لکه چه په حديث ډ بخاری اواحمد کښ ذکردی۔

لَا يَعْلَمُوْنَ ۝٦ كَيْفَ يَكُوْنُ لِلْمُشْرِكِيْنَ عَهْدٌ عِنْدَ اللّٰهِ وَعِنْدَ رَسُوْلِهٖٓ اِلَّا الَّذِيْنَ عٰهَدْتُّمْ
عِنْدَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۚ فَمَا اسْتَقَامُوْا لَكُمْ فَاسْتَقِيْمُوْا لَهُمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِيْنَ ۝
كَيْفَ وَاِنْ يَّظْهَرُوْا عَلَيْكُمْ لَا يَرْقُبُوْا فِيْكُمْ اِلًّا وَّلَا ذِمَّةً ۭ يُرْضُوْنَكُمْ بِاَفْوَاهِهِمْ وَتَاْبٰى
قُلُوْبُهُمْ ۚ وَاَكْثَرُهُمْ فٰسِقُوْنَ ۝٨ اِشْتَرَوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ثَمَنًا قَلِيْلًا فَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِهٖ ۭ اِنَّهُمْ

چه نه پوهیږی (٦) ځنګه به وی مشرکانو لره لوظ په نیز د الله تعالی اوپه نیز د رسول(ﷺ) د هغه مکر هغه کسان چه لوظ ورسره کړے دے تاسو په خوا د مسجد حرام کښ پس څو پورے چه کلك وی دوی تاسو سره په وعده باندے پس کلك اوسے تاسو هم دو ی سره یقیناً الله تعالی خوخوی متقیان (څان ساتونکی د ے لوظئے نه) (٧) څنګه به وی(اعتبار دلوظ د دوی) اوکه دوی زوراور شو په تاسو باندے نولحاظ نه کوی دوی پتاسو کښ دخپلولئے اونه دلوظ، رضا کوی تاسو په خلو خپلو او انکار کوی زړونه د دوی او ډیر د دوی نافرمان دی (٨) اغستے دے دوی په بدل د آیتونو د الله تعالی کښ عوض لږ پس منع کوی دوی خلق دلارے د الله تعالی نه یقیناً دوی چه دی

[٦] په دے کښ دریم قسم د مشرکینو ذکر دے چه هغوی ته مستاء منین وائي ﴿يَسْمَعَ كَلَامَ اللّٰهِ﴾ دا صریح دلیل دے چه مسموع کلام الله دے او دا مذهب د سلف صالیحنو دے چه متلو او مسموع او مکتوب کلام الله دے او هغه قول غلط دے چه وائي چه دا کلام لفظی دے دال دے په کلام نفسی باندے اوکلام نفسی کلام الله دے ﴿اَبْلِغْهُ مَاْمَنَهٗ﴾ اهل علمو وئیلی دی چه ترکال پورے د دیره کیدلو اجازت نشی ورکیدلے اوخلورو میاشتو پورے ورکیدلے شی۔

[٧] دا رد دے د اول مانع د قتال چه چا دا خیال کوؤ چه مشرکین مکه سره خوعهد شوے وؤ نود هغوی سره قتال کول څنګه جائزشول۔ حاصل د جواب دا دے چه هغوی خپل عهد مات کړے دے او وعده چه ماته کړے شی نود هغے د الله تعالی اود رسول الله ﷺ په نیز باندے هیڅ اعتبار نیشته ما سِوا د هغه دویمے ډلے نه چه هغوی په خپل عهد باندے مضبوط وؤنوهغوی سره به عهد (لوظ) پوره کیدے شی۔ اوپه دے ایت کښ حکمت د برائت ذکر کوی۔

[٨] د دے ایت نه تفصیل د هغے صفاتود مشرکینو شروع دے چه هغه اسباب د قتال دی اوپه دے ایت کښ څلور ذکردی ﴿كَيْفَ﴾ دا اعاده ده د محکښ کیف اوفعل ئیے پټ دے (کیف یکون لهم عهد) ﴿اِلًّا﴾ د ابن عباس رضی الله عنهما نه اکثر راویانو روایت کړے دے چه الاً په معنیٰ د خپلولئی سره دے۔ ﴿يُرْضُوْنَكُمْ﴾ مراد د دے نه په باره د وفا د عهد کښ خبرے کول دی په باره د ایمان کښ داسے نه دی ځکه چه دا صفات د مشرکانودی په باره د منافقانو کښ نه دی ﴿وَاَكْثَرُهُمْ﴾ سوال: کافران خو ټول فاسقان دی نواکثرئیے ولے اُوئیل؟ جواب (١) دلته د فاسقون نه مراد بنکاره بے لوظی کوونکی دی۔جواب (٢) بعضود دوی نه روستوایمان راوړے وؤ او مراد د فاسقون هغه دی چه تر مرګه پورے په کفر باندے کلك وؤ۔

سَآءَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝٩ لَا يَرْقُبُوْنَ فِيْ مُؤْمِنٍ اِلًّا وَّ لَا ذِمَّةً ؕ وَ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُعْتَدُوْنَ ۝١٠
فَاِنْ تَابُوْا وَ اَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَ اٰتَوُا الزَّكٰوةَ فَاِخْوَانُكُمْ فِي الدِّيْنِ ؕ وَ نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ
يَّعْلَمُوْنَ ۝١١ وَ اِنْ نَّكَثُوْٓا اَيْمَانَهُمْ مِّنْۢ بَعْدِ عَهْدِهِمْ وَ طَعَنُوْا فِيْ دِيْنِكُمْ فَقَاتِلُوْٓا اَئِمَّةَ
الْكُفْرِ ۙ اِنَّهُمْ لَآ اَيْمَانَ لَهُمْ لَعَلَّهُمْ يَنْتَهُوْنَ ۝١٢ اَلَا تُقَاتِلُوْنَ قَوْمًا نَّكَثُوْٓا اَيْمَانَهُمْ وَ هَمُّوْا

بد دے هغه عمل چه دوی ئے کوی (۹) لحاظ نه کوی دوی ذهیخ مؤمن په باره کښ ذخیلولئے اونه لوظ او دغه کسان خاص دوی ذحدنه تیروتونکی دی(۱۰) پس که دوی توبه ویستله ذ دے کارونونه او پابندی ئے کوله ذمانځه او ورکوؤئے زکوٰة پس رونړه ستاسو دی په دین کښ او تفصیلی بیانوو مونږه احکام دپاره ذ هغه قوم چه پوهیږی (۱۱) اوکه مات کړل دوی قسمونه خپل پس ذکلك والی ذهغے نه اوطعن ئے اوکړوپه دین ستاسو کښ پس جنګ کوئ ذمشرانو ذکفر سره یقیناً دوی نیشته هیڅ قسمونه ذ دوی دے دپاره چه دوی منع شی (ذکفر نه) (۱۲) ولے جنګ نه کوئ تاسو ذهغے قوم سره چه مات کړی ئے دی قسمونه خپل او کوشش ئے کړے وو

[۹] په دے ایت کښ نور درے صفات ذکردی ﴿اِشْتَرَوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ﴾ ذ دے نه مراد دا دے چه دے مشرکانوقرآن پاك او احکام ذ اللّٰه تعالیٰ پریخودلی دی او دُنیا ئے غوره کړے ده ۔ اودَ هر مشرك اوکافر دا حال دے چه ذ اللّٰه تعالیٰ ذ دین په مقابله کښ دُنیا ئے غوره کړے ده ﴿فَصَدُّوْا﴾ لازمی او متعدی دواړه احتمالونه شته یعنی پخپله منع شول یا نور خلق منع کوی ذ لارے ذ اللّٰه تعالیٰ نه۔

[۱۰] دے ایت کښ دوه صفات ذکردی ﴿لَا يَرْقُبُوْنَ﴾ په دے کښ تکرار نیشته دے ځکه چه مخکښ خاص ذکر شوے وؤ اودا عام دے ﴿اَلْمُعْتَدُوْنَ﴾ دا ترقی ده په خباثت کښ یعنی صرف ترك ذ لحاظ نه دے بلکه ظلم ورسره هم یوځائے کوی۔

[۱۱] دے ایت کښ ترغیب دے توبے ته لیکن په ایت (۵) کښ مقصد منع ذ قتال اوحصول ذ عصمت ذ وینواودَ مال وؤ ذ دے وجے نه هلته فَخَلُّوا سَبِيْلَهُمْ، وئیلے وؤ اوپه دے ایت کښ مقصد اعتبارکول دی په عهد ذ هغوی باندے اوپه چا باندے چه اعتبار کیدے شی نوهغه ته رور وئیلے شی ذ دے وجے نه دلته ئے ﴿فَاِخْوَانُكُمْ﴾ اُوئیل نوتکرار ایاتونوکښ نیشته دے ﴿وَنُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ﴾ مراد ذ ایت نه اوصاف ذ ماتوؤنکو ذ عهد دی چه هغه علتونه ذ قتال دی۔

[۱۲] دے ایت کښ مراد مشرکان معاهدین دی، ځکه لفظ ذ اِن ئے راوړے دے یعنی که دغه معاهدینودَ مودے ذ پوره کیدلو نه مخکښ لوظ مات کړو نو قتال ورسره کوئے بیا په دے ایت کښ درے صفات ذکر دی۔ دا ایت دلیل دے په دے خبره چه چا طعن اوکړوپه دین اسلام کښ نوهغه کافردے یا کافر معاهد اوذمی طعن اوکړی نودَ هغه ذمه اوامن ختم شو (خازن، مدارك) طعن دا دے چه نسبت اوکړی دین ته ذ هغه څیز چه مناسب نه وی یا سپك اوګنړی دین لره او دارنګ کنځل اوکړی پیغمبرته یا قرآن پاك ته یا نورودَ دین احکاموته نودا طعن کول کفردے اودوی ته ئے امامان ذ کفر اوئیل ځکه چه داسے سړے بنیاد ذکفر جوړوی اونورخلق ئے تابعداری کوی ﴿اَيْمَانَهُمْ﴾ په وخت ذ عهدکښ قسم ذکرکیږی ځکه ئے

بِاِخْرَاجِ الرَّسُوْلِ وَهُمْ بَدَءُوْكُمْ اَوَّلَ مَرَّةٍ ؕ اَتَخْشَوْنَهُمْ ۚ فَاللّٰهُ اَحَقُّ اَنْ تَخْشَوْهُ اِنْ كُنْتُمْ
مُّؤْمِنِيْنَ ﴿١٣﴾ قَاتِلُوْهُمْ يُعَذِّبْهُمُ اللّٰهُ بِاَيْدِيْكُمْ وَيُخْزِهِمْ وَيَنْصُرْكُمْ عَلَيْهِمْ وَيَشْفِ صُدُوْرَ قَوْمٍ
مُّؤْمِنِيْنَ ﴿١٤﴾ وَيُذْهِبْ غَيْظَ قُلُوْبِهِمْ ؕ وَيَتُوْبُ اللّٰهُ عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿١٥﴾
اَمْ حَسِبْتُمْ اَنْ تُتْرَكُوْا وَلَمَّا يَعْلَمِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ جٰهَدُوْا مِنْكُمْ وَلَمْ يَتَّخِذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلَا
رَسُوْلِهٖ وَلَا الْمُؤْمِنِيْنَ وَلِيْجَةً ؕ وَاللّٰهُ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿١٦﴾ مَا كَانَ لِلْمُشْرِكِيْنَ اَنْ يَّعْمُرُوْا ع ١٠

په ویستلو دَرسول(ﷺ) او دوی شروع اوکړه پتاسو باندے (په جنګ کولو سره) اول ځل آیا یریږئ تاسو دَ دینه پس الله تعالیٰ زیات حقدار دے چه دَهغه نه یره اوکړئ ځکه چه تاسو مؤمنان یئ (١٣) جنګ کوئ دَ دوی سره نو عذاب به ورکړی دوی لره الله تعالیٰ په لاسونو ستاسو او اوبه شرموی دوی لره او امداد به اوکړی تاسو سره په مقابله دَ دوی کښ اوشفاء به ورکړی سینو دَقوم مؤمنانوته (١٤) اولرے به کړی غصه دَ زړونو دَکافرانو اومهربانی به اوکړی الله تعالیٰ په هغه چا باندے چه اوغواړی(په توفیق دَایمان سره) او الله تعالیٰ پوهه دے حکمتونو والا دے (١٥) آیا ګمان کوئ تاسو چه پرے به خودئ شئ تاسو (بغیر دَ امتحان نه) او تراوسه نه دی ښکاره کړی الله تعالیٰ هغه کسان چه جهادئے کړے وی ستاسونه اونه ئے وی نیولے سیوا دَ الله تعالیٰ نه او دَ رسول(ﷺ) دَهغه نه او دَمؤمنانونه رازدار دوست او الله تعالیٰ خبردار دے په هغه عملونو چه تاسوئے کوئ (١٦) نه شی قبلیدے دَمشرکانو دپاره چه آبادوی دوی

ایمان اُوئیلو ﴿اِنَّهُمْ لَآ اَيْمَانَ لَهُمْ﴾ اول ئے دوی له ایمان (قسمونه) ثابت کړل او اوس ئے ترینه نفی کړل ځکه چه هرکله ئے ایمان مات کړل نو پشان دَ نیشت شول۔

[١٣] په دے ایت کښ نوردوه صفات دی اوترغیب دے مؤمنانوته په قتال دَ دغے مشرکانوچه په هغوی کښ داصفات موجود وی اوترغیب په پنځوطریقوسره دے(١) لفظ اَلاَ دپاره دَ تحضیض (٢) ذکرد دوه علتونو(٣) اتخشونهم (٤) فالله احق (٥) ان کنتم مؤمنین ﴿وَهَمُّوْا﴾ هَمْ په معنیٰ دَکوشش کولودے ځکه صرف هَم دَګناه خوګناه نه دے او ﴿بِاِخْرَاجِ﴾ نه مراد اخراج دے دَ مکے نه اوپه هغه هَم کښ دوی کامیاب شول یا اخراج دے مدینے نه اوپه دے کښ دوی کامیاب نه شول۔

[١٤] په دے ایت کښ اعلان قتال دے پس دَ بیان دَ اسبابودَ هغے نه اودَ هغے ځلورفائدے ذکرکوی۔ ﴿يُعَذِّبْهُمُ﴾ مراد دَ دے نه قتل دے ﴿وَيُخْزِهِمْ﴾ شامل دے قید کولو اوذلیل کولوته ﴿يَشْفِ﴾ مراد دَ یشف نه خوشحالی دَ زړونوده۔

[١٥] په دے ایت کښ دوه فائدے دَ قتال ذکردی اوضمیردَ ﴿قُلُوْبِهِمْ﴾ کافرانوته راجع دے ﴿وَيَتُوْبُ﴾ دا کلام مستانف دے ځکه مرفوع دے۔

[١٦] دے کښ ترغیب دے جهاد ته، مطلب ئے دا دے چه الله تعالیٰ مؤمنانو لره بغیرد امتحان نه نه پریږدی لکه دَ دوی امتحان به په دوه طریقوسره وی یوجهاد دویم برائت دَ مشرکینونه ﴿وَلَمْ يَتَّخِذُوْا﴾ دا جمله ئے دَ دے وجے نه را وړه چه په دے سورة کښ اعلان برائت وؤ او برائت وائي دیته چه هغوی سره

مَسٰجِدَ اللّٰهِ شٰهِدِيْنَ عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ بِالْكُفْرِ ؕ اُولٰٓئِكَ حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ ۚ وَفِي النَّارِ هُمْ
خٰلِدُوْنَ ﴿١٧﴾ اِنَّمَا يَعْمُرُ مَسٰجِدَ اللّٰهِ مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَاَقَامَ الصَّلٰوةَ وَاٰتَى الزَّكٰوةَ
وَلَمْ يَخْشَ اِلَّا اللّٰهَ ۖ فَعَسٰٓى اُولٰٓئِكَ اَنْ يَّكُوْنُوْا مِنَ الْمُهْتَدِيْنَ ﴿١٨﴾ اَجَعَلْتُمْ سِقَايَةَ الْحَآجِّ
وَعِمَارَةَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ كَمَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَجٰهَدَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ لَا يَسْتَوٗنَ

جماعتونه دَ اللّٰه تعالیٰ اقرار کوونکی دی په ځان باندے په کفر سره دغه کسان برباد دی عملونه دَ دوی اوپه اُور کښ به دوی همیشه وی (۱۷) یقیناً آبادوی جماعتونه دَ اللّٰه تعالیٰ هغه څوك چه ایمان لری په اللّٰه تعالیٰ او په ورځ روستنئے او پابندی کوی دَمانځه او ورکوی زکوٰة او نه یریږی دَهیڅانه سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه پس لائقه ده چه دغه کسان به وی دَهدایت والونه (۱۸) آیا ګنړئ تاسو اوبهٔ ځښنکول په حاجیانو او آبادول دَمسجد حرام پشان دَهغه چاچه ایمان لری په اللّٰه تعالیٰ اوپه ورځ روستنئے او جهاد کوی په لار دَ اللّٰه تعالیٰ کښ نه دی برابر دوی

تعلق پریږ دی ﴿وَلِيْجَةً﴾ فراء وئیلی دی چه ولیجة دَ راز دوستانے ته وئیلے شی او راغب وئیلی دی ولیجة هرهغه څوك کیدے شی چه انسان په هغه باندے اعتماد کوی۔

[۱۷] په دے ایت کښ جواب دے دَ دویم مانع دَ قتال۔ چه سوال راتلوچه دا مشرکان خوخدمت کوی دَ مساجدواو خاصکرَ مسجد حرام اوپه حاجیانوباندے اوبه څښنکوی نودَ دوی سره قتال ولے جائزدے؟ نوجواب: ورکړے شوچه دَ مشرکانو عَملونه دَ غسے برباد وی ﴿شَاهِدِيْنَ﴾ اقراردَ کفر دا دے (په ژبے سره) چه خپل معبودانو ته مخلوق وائي او بیا ئیے هم اللّٰه تعالیٰ سره شریکوی اواقرارپه عمل سره دا دے چه کارونه دَ شرك بنکاره کوی لکه سجده اودُعا دَ غیراللّٰه ﴿مَا كَانَ﴾ کښ اشاره ده چه مؤمنان به مشرکانوته دَ مسجد دَ جوړولوتمکین (طاقت) نه ورکوی ﴿مَسٰجِدَ اللّٰهِ﴾ جمع ئیے ذکرکړه دپاره دَ تعمیم دَ حکم ټولو مساجدوته۔

[۱۸] دے ایت کښ صفات دَ مؤمنانوذکردی چه دَ دے وجے نه دَ هغوی ابا دول مساجدو لره قبول دی۔ او ابادول دوه قسمه دی یوظاهری ابادی دا هم عبادت دے دَ هغے صفائي اوپه هغے کښ رنړا کول وغیره۔ دویم ابادول دَ مساجدوپه عبادت سره دی په عقیده دَ توحید اوپه طریقه دَ سنت باندے ﴿وَلَمْ يَخْشَ اِلَّا اللّٰهَ﴾ خشیت هغه یره ده چه سره دَ تعظیم نه وی اودا خاص ده په اللّٰه تعالیٰ پورے ﴿اَقَامَ الصَّلٰوةَ وَاٰتَى الزَّكٰوةَ﴾ په دے کښ اشاره ده چه نفل کارونه (لکه تعمیرَ مسجد) روستو دے دَ ادا کولودَ فرضونه چه فرض بدنی وی اوکه مالی وی ﴿وَلَمْ يَخْشَ﴾ کښ اشاره ده اخلاص ته په ټولوعباداتوکښ دَ دے وجے نه روستو ئیے ذکر کړو ﴿فَعَسٰى﴾ عسیٰ دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه دَ وجوب (یقین) دپاره وی لیکن هرکله چه اهتداء نه مراد قبولیت دے اودَ هغے علم دَ اللّٰه تعالیٰ سره دے نودَ دے وجے په لفظ دَ عسیٰ سره ذکر کړو۔

عِنْدَ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿١٩﴾ اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَهَاجَرُوْا وَجٰهَدُوْا فِيْ سَبِيْلِ
اللّٰهِ بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ ۙ اَعْظَمُ دَرَجَةً عِنْدَ اللّٰهِ ؕ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفَآئِزُوْنَ ﴿٢٠﴾ يُبَشِّرُهُمْ رَبُّهُمْ
بِرَحْمَةٍ مِّنْهُ وَرِضْوَانٍ وَّجَنّٰتٍ لَّهُمْ فِيْهَا نَعِيْمٌ مُّقِيْمٌ ﴿٢١﴾ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ؕ اِنَّ اللّٰهَ عِنْدَهٗٓ
اَجْرٌ عَظِيْمٌ ﴿٢٢﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوْٓا اٰبَآءَكُمْ وَاِخْوَانَكُمْ اَوْلِيَآءَ اِنِ اسْتَحَبُّوا الْكُفْرَ
عَلَى الْاِيْمَانِ ؕ وَمَنْ يَّتَوَلَّهُمْ مِّنْكُمْ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿٢٣﴾ قُلْ اِنْ كَانَ اٰبَآؤُكُمْ وَاَبْنَآؤُكُمْ

وقف لازم

په نیز دَ اللّٰه تعالیٰ او اللّٰه تعالیٰ ثواب نه ورکوی قوم ظالمانوته (۱۹) هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے اوهجرت ئے کړے دے اوجهاد ئے کړیدے په لار دَ اللّٰه تعالیٰ کښ په مالونو خپلو اوپه ځانونو خپلو سره لوئے درجے والا دی په نیز دَ اللّٰه تعالیٰ او دغه کسان خاص دوی کامیاب دی(۲۰) زیرے ورکوی دوی لره رب دَ دوی په مهربانئ خپلے سره اوپه رضامندئ خپلے سره اوپه جنتونو سره چه دوی لره به په هغے کښ نعمتونه همیشه وی (۲۱) همیشه به وی دوی په هغے کښ همیشه یقیناً دَ اللّٰه تعالیٰ سره دے اجر لوئے (۲۲) اے ایمان والو! مه نیسئ پلاران خپل او رونړه خپل دوستان که خوخوی دوی کفر لره په ایمان باندے او چاچه دوستانه اوکړه دوی سره ستاسونه پس دغه کسان خاص دوی ظالمان دی (۲۳) ته اووایه که وی پلاران ستاسو او ځامن ستاسو

[۱۹] دا ایت هم دَ مخکښ جواب سره متعلق دے، حاصل دا دے چه نیك عملونه دَ مشرکانو برباد دی دے وجے نه هغوی په دغے عمل سره دَ ایمان والوسره نه شی برابرکیدلے۔ اوپه دے ایت کښ رد دے په هغه چا باندے چه فخرکوی په نیك کارونو باندے لکه جماعتونه جوړول اوخیراتونه کول سرهٔ دَ عقیدے دَ شرك اوکفرنه۔ ﴿سِقَايَةَ﴾ دَ دے نه مخکښ لفظ دَ اهل پټ دے یا په کَمَنُ سره لفظ دَ ایمان پټ دے ﴿لَايَهْدِيْ﴾ مراد دَ هدایت نه قبولیت اوثواب ورکول دی یا مراد دَ دے بصیرت اوپوهه ده دپاره دَ فرق کولودَ خیر اوشر۔

[۲۰] دا ایت علت دے یا تفسیر دے دَ مخکښ ایت دپاره چه په هغے کښ فرمائیلی وؤ لایستوون۔ اوپه دے کښ بل جانب مرجوح نه دے ذکرکړے ځکه چه کالعدم دے۔

[۲۲،۲۱] په دے دواړو ایتونو کښ اُخروی زیرے دے اوداتفسیردے دَ الفائزون دپاره ﴿بِرَحْمَةٍ﴾ مراد دَ دے نه بچ کول دی دَ هرعذاب نه لکه په سورة انعام (۱۶) اومؤمن (۹) کښ دی یا مراد دَ دے نه قبلول دَ عملونودَ دوی دی۔

[۲۳] دا جواب دے دَ دریم مانع دَ قتال۔ سوال دا وؤچه دے مشرکانوسره زمونږه خپلولی ده او صله رحمی ساتل خو واجب وی نودوی سره قتال ولے واجب شو؟ نوجواب اوشو چه دَ مشرکانوسره دوستانه کول اگرچه خپلوان وی حرامه ده اودَ دوستانے تفسیر دا دے چه په کاردَ کفر اودَ شرك کښ دَ هغوی تابعداری کوی یا په دغے کارونو کښ دَ دوی امداد کوی یا دَ هغے دَ وجے نه جهاد پریږدی۔

فائده: په دے ایت کښ ئے ذکردَ ځامنوځکه نه دے کړے چه ځامن تابع دَ پلار وی نوپلاردَ ځوی سره دوستانه په طریقه دَ تابعدارئے دَ هغه نه کوی۔

وَ اِخْوَانُكُمْ وَ اَزْوَاجُكُمْ وَعَشِيْرَتُكُمْ وَ اَمْوَالُ ِۨاقْتَرَفْتُمُوْهَا وَ تِجَارَةٌ تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَمَسٰكِنُ
تَرْضَوْنَهَآ اَحَبَّ اِلَيْكُمْ مِّنَ اللّٰهِ وَ رَسُوْلِهٖ وَجِهَادٍ فِيْ سَبِيْلِهٖ فَتَرَبَّصُوْا حَتّٰى يَاْتِيَ اللّٰهُ
بِاَمْرِهٖ ؕ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ﴿٢٤﴾ لَقَدْ نَصَرَكُمُ اللّٰهُ فِيْ مَوَاطِنَ كَثِيْرَةٍ ۙ وَّيَوْمَ ع ١٣
حُنَيْنٍ ۙ اِذْ اَعْجَبَتْكُمْ كَثْرَتُكُمْ فَلَمْ تُغْنِ عَنْكُمْ شَيْـًٔا وَّضَاقَتْ عَلَيْكُمُ الْاَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ
ثُمَّ وَلَّيْتُمْ مُّدْبِرِيْنَ ﴿٢٥﴾ ثُمَّ اَنْزَلَ اللّٰهُ سَكِيْنَتَهٗ عَلٰى رَسُوْلِهٖ وَعَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَاَنْزَلَ جُنُوْدًا لَّمْ

او رونړه ستاسو اوښځې ستاسو اوقبيلے ستاسو اوهغه مالونه چه ګټلے ئے تاسو هغے لره اوتجارت چه پريږئ تاسو دَکوټه کيدلو دَهغے نه اوهغه کورونه چه خوښوئ تاسو هغے لره ډيرخواږه دی تاسوته دَ الله تعالیٰ نه او دَ رسول(ﷺ) دَ هغه نه او دَ جهادنه په لار دَ هغه کښ پس انتظار اوکړئ تردے چه رابه ولی الله تعالیٰ فيصله خپله او الله تعالیٰ توفيق نه ورکوی قوم نافرمان ته (٢٤) يقيناً امداد کړيدے تاسو سره الله تعالیٰ په ځايونو ډيرو کښ اوپه ورځ دَحنين کله چه خوشحاله کړئ تاسو ډيروالی ستاسو پس فائده ئے درنه کړه تاسوته هيڅ فائده او تنګه شوه په تاسو باندے زمکه سره دَارت والی نه بيا اوګرځيدئے تاسو(دَميدان جنګ نه) شاکوونکی (دُشمنانوته) (٢٥) بيا رااوليګله الله تعالیٰ تسلی دَخپل طرف نه په رسول(ﷺ) خپل اوپه مؤمنانو باندے رااوليږله ئے داسے لښکرے چه نه

[٢٤] دا ايت هم دَ مخکښ ايت سره تعلق لری اودَ مخکښ نه ترقی ده په بيان کښ ځکه چه مخکښ ئے ولايت منع کړودَ کافرانو سره اوپه دے ايت کښ هرقسم تعلق ساتل دَ هرچا سره په مخالفت دَ الله تعالیٰ اودَ رسول کښ منع کوی ـ او زورنه ده هغه چا ته چه دَ الله تعالیٰ اودَ رسول الله ﷺ دَ حکم په مقابله کښ خپلوان يا دَ دُنيا څيزونه غوره کوی دارنګ دَ هغوی دَ مينے دَ وجے نه هجرت اوجهاد پريږدی رازی وئيلی دی دا ايت دليل دے چه يوطرف ته دَ دين يومصلحت وی اوبل طرف ته دَ دُنيا بے شماره مصلحتونه وی ليکن په مسلمان باندے فرض دی رعايت دَ مصلحت دَ دين اوترجيح دَ دين په دُنيا باندے۔ ﴿وَجِهَادٍ فِيْ سَبِيْلِهٖ﴾ دَ دے تخصيص په دے وجے سره اوشو چه دا ذريعه دَ اعلاء اوغلبے دَ دين الٰهی ده۔ ﴿بِاَمْرِهٖ﴾ مراد دَ دے نه عذاب دے دَ دُنيا په مختلفو طريقوسره ﴿الْفٰسِقِيْنَ﴾ مراد هغه خلق دی چه بنکاره وتلی دی دَ طاعت دَ الله تعالیٰ اودَ رسول نه اوتوبه ئے نه ده کړے او ﴿لَا يَهْدِيْ﴾ نه مراد دَ عذاب نه بچ کول دی۔

[٢٥] ربط دَ مخکښ سره دا دے لکه چه اعتماد په دغه ذکرکړے شوی څيزونوباندے منع دے نودا رنګ اعتماد کول په خپل ډير والی باندے هم منع دے اوپه دے ايت کښ زيرے دے په امداد دَ الله تعالیٰ سره دپاره دَ ترغيب دَ جهاد۔ دويم مقصد دا دے چه اعتماد په خپل ډيروالی باندے مه کوئے بلکه توکل کوئے په الله تعالیٰ ﴿مَوَاطِنَ كَثِيْرَةٍ﴾ مراد دَ دے نه مغازی (غزاګانے) دی مؤرخينو وئيلی دی چه اتيا(٨٠) مغازی په ژوند دَ رسول الله ﷺ کښ موجود شول اوپه روايت دَ بخاری کښ دی چه نبی ﷺ پخپله په نورلس(١٩) غزاګانو کښ شريک شوے دے ﴿وَيَوْمَ حُنَيْنٍ﴾ دَ دے تخصيص ئے دَ دفعے دَ وهم دَ وجے نه اوکړو که څوک وهم اوکړی چه په حنين کښ خو هزيمت شوے دے نو معلومه شوه چه نصرت الٰهی نه وؤ نودَ هغے

تَرَوْهَا وَعَذَّبَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ؕ وَذٰلِكَ جَزَآءُ الْكٰفِرِيْنَ ﴿٢٦﴾ ثُمَّ يَتُوْبُ اللّٰهُ مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ عَلٰى
مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٢٧﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنَّمَا الْمُشْرِكُوْنَ نَجَسٌ فَلَا يَقْرَبُوا الْمَسْجِدَ
الْحَرَامَ بَعْدَ عَامِهِمْ هٰذَا ۚ وَاِنْ خِفْتُمْ عَيْلَةً فَسَوْفَ يُغْنِيْكُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖٓ اِنْ شَآءَ ؕ اِنَّ
اللّٰهَ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿٢٨﴾ قَاتِلُوا الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَلَا يُحَرِّمُوْنَ مَا حَرَّمَ
اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ وَلَا يَدِيْنُوْنَ دِيْنَ الْحَقِّ مِنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ حَتّٰى يُعْطُوا الْجِزْيَةَ عَنْ

لیدلے تاسو هغه (یعنی ملائك) او عذاب ئے ورکړو کافرانو لره او دا سزا دَ کافرانو ده (٢٦) بیا مهربانی اوکړه الله تعالیٰ پس دَ دے (غلبے) نه په هغه چاچه اوئے غوښته او الله تعالیٰ بخونکے رحم کوونکے دے (٢٧) اے ایمان والو! یقیناً مشرکان پلیت دی پس نه دے نزدے کیږی مسجد حرام ته روستو دَ دے کال نه (نهم کال دَهجرت) او که یریږئ تاسو دَفقیرئ نه پس زردے چه مالداربه کړی تاسو لره الله تعالیٰ دَوجے دَفضل خپل نه که اوغواړی یقیناً الله تعالیٰ پوهه دے حکمت والا دے (٢٨) جنګ کوئ دَهغے کسانو سره چه ایمان نه لری په الله تعالیٰ اونه په ورځ روستنئے (پشان دَایمان دَ صحابؤ) اوحرام نه ګنړی هغه شے چه حرام کړے دے الله تعالیٰ او رسول دَهغه او تابعداری نه کوی دَ دین حق دَهغه کسانونه چه ورکړے شویدے کتاب تردے چه ورکوی به جزیه په

جواب ئے اوکړو اوحُنَین دَ مکے اودَ طائف په مینځ کښ وادی ده اوپه مقابله کښ هوازن اوثقیف څلور زره کسان ؤوچه هغوی دَ غشو ویشتلو ډیر تکړه وؤغزوه دَ حنین دَ فتح مکے نه روستو وه اولښکرد مؤمنانو دولس زره کسان وؤ لیکن په هغوی کښ نوی مسلمانان وؤچه دَ ادابونه پوره خبرنه وونودَ دے وجے نه دَ جنګ په ابتداء کښ تنګ شول او میدان ئے پریښودلو۔

[٢٦] دے ایت کښ ذکر دَ امداد دَ الله تعالیٰ دے په ورځ دَ حنین په روستوحالت چه الله تعالیٰ ملائك رااولیږل اوکافران ئے مغلوب کړل ﴿عَلٰى رَسُوْلِهٖ﴾ داسے په سورة فتح (٢٦) کښ هم دی اوپه دے کښ اشاره ده چه رسول هم دَ الله تعالیٰ سکینے ته محتاج دے اګر چه په هغه باندے په دے واقعه کښ هیڅ اضطراب نه وؤ راغلے صرف خفګان وربانده راغے دَ ملګرو دَ تللودَ وجے نه ﴿وَعَذَّبَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا﴾ څه ئے قتل کړل اوډیرئے قید کړل بیا روستو دَ ایمان راوړلونه ئے واپس ورکړل۔

[٢٧] دے کښ اشاره ده چه پس دَ جنګ نه ډیرو کافرانوته توفیق دَ ایمان ورکړے شودارنګ په دے ایت کښ بخښے دَ صحابه کراموته هم اشاره ده۔

[٢٨] په دے ایت کښ دَ برائت یو طریقه ذکر ده ، او هغه دا ده چه مشرکانو لره دَ حج اودَ عمرے اودَ حرم دَ دا خلیدلو نه منع کړئے اودَ هغے علت ذکر شو چه دوی نجس (پلیت) دی۔ اکثروعلماؤ وئیلی دی چه مراد دَ نجاست نه نجاست باطنی دے چه هغه شرك دے اودَ بعضواهلِ علموپه نیزباندے مراد دَ نجاست نه نجاست ظاهری دَ بدن دے ﴿فَلَا يَقْرَبُوا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ﴾ مراد دَ دے نه دَ حج اوعمرے اوطواف نه منع کول دی اومسجد حرام ته اونورو مساجدوته داخلیدل په نیزدَ احنافوجائز دی اوپه نیزدَ امام شافعیؒ

يَّدٍ وَّهُمْ صٰغِرُوْنَ ﴿٢٩﴾ وَقَالَتِ الْيَهُوْدُ عُزَيْرُ ۨ ابْنُ اللّٰهِ وَقَالَتِ النَّصٰرَى الْمَسِيْحُ ابْنُ اللّٰهِ ؕ ذٰلِكَ
قَوْلُهُمْ بِاَفْوَاهِهِمْ ۚ يُضَاهِـُٔوْنَ قَوْلَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ قَبْلُ ؕ قٰتَلَهُمُ اللّٰهُ ۚ اَنّٰى يُؤْفَكُوْنَ ﴿٣٠﴾ اِتَّخَذُوْٓا
اَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ اَرْبَابًا مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَالْمَسِيْحَ ابْنَ مَرْيَمَ ۚ وَمَآ اُمِرُوْٓا اِلَّا لِيَعْبُدُوْٓا اِلٰهًا

لاس خپل سره او دوی به ذلیلان وی (۲۹) او وائی یهودیان عزیر(علیه السلام) ځوئے دَ الله تعالیٰ دے اووائی نصاریٰ چه مسیح(علیه السلام) (عیسیٰ) ځوئے دَ الله تعالیٰ دے داوینا دَ دوی ده په خلو دَ دوی (یعنی بے دلیله) یوشانوالے کوی دوی دَوینا دَهغے کسانو سره چه کفرئے کړیدے دَ دوی نه مخکښ لعنت دِ اوکړی په دوی الله تعالیٰ څنګه او ړیدلے کیږی دوی دَحق نه (۳۰) جوړ کړی دی دوی ملیان خپل اوپیران خپل اختیارمند دَاحکامو (دَحلال اوحرام) سیوا دَ الله تعالیٰ نه اومسیح ځوئے دَمریم اونه دے کړے شوے حکم دویته مګر دَ دے خبرے چه بندګی دِ خاص کړی دَمددګار

صرف مسجد حرام ته منع دی نورومساجدوته جائز دی اوپه نیزدَ امام مالکؒ ټولو مساجدوته منع دی۔ غوره دا ده چه مراد دَ مسجد حرام نه ټول حرم دے اودَ مشرکانوکافرانوداخله حرم ته منع ده۔ بیا په دے ایت کښ جواب دے دَ څلورم مانع دَ قتال۔ سوال دا وؤ چه دَ مشرکانو دَ طرف نه مونږ له مالونه به بندشی؟۔ نو جواب اوشو چه پرواه مه کوئے الله تعالیٰ به دَ بل طرف نه څه سبب جوړ کړی ﴿اِنْ شَآءَ﴾ دا دلیل دے په دے باندے چه مالداری اوغریبی په اختیارَدَ بندګانو کښ نه دی بلکه دا اختیارَدَ الله تعالیٰ دے۔

[۲۹] دَ دے ایت نه دویمه حصه دَ سورة ده تر اودیرش ایت پورے اوپه دے حصه کښ ذکرَدَ اهل کتابو کافرانو دے اودَ هغوی دَ قتال دپاره دیارلس وجے ئے ذکرکړی دی۔ په دے ایت کښ دَ هغے نه درے ذکر دی او دے ایت نه دا معلومه شوه چه دَ قتال دَ دے کافرانونه مقصد کمزوری کول دَ دوی دی نوکه داراسلام کښ اوسی اوجزیه ورکوی یاد داراسلام نه بهروی لیکن مسلمانانوسره صلحه اوکړی په جزیه ورکولونودا جائزدی ﴿لَا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْاٰخِرِ﴾ مراد دَ دے نه نفی دَ ایمان شرعی ده چه هغه ایمان دَ صحابودے اویهودیان عقیده دَ تجسیم اوتشبیه لری اونصاریٰ عقیده دَ حلول اوتثلیث لری اوبعث دَ ارواحوبغیرَدَ اجسادو نه منی اوجنت دَ ځان دپاره خاص کوی ﴿مَا حَرَّمَ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ﴾ یعنی تحریمات دَ قرآن اودَ سنت نه منی یا دَ تورات اوانجیل هم نه منی په هغے کښ ئے تحریف کړے ﴿عَنْ يَّدٍ﴾ په خپل لاس به ئے ورکوی اونقد به اداکوی اوپه زورسره به ورکوی دے ته عَنْ يَّدٍ وئیلے شی ﴿وَهُمْ صٰغِرُوْنَ﴾ دا دلیل دے چه معاهد او اهل ذمه به دار اسلام کښ په عزت سره نه اوسیږی اهل علمو وئیلی دی چه په بنارونو کښ به نه اوسیږی دنګے ابادئ به نه کوی دَ اسلامی حکومت په فوج کښ او نورو اعلیٰ عهدو باندے به نه مقررکیږی۔

[۳۰] په دے ایت کښ نورځلوراسباب دَ قتال دَ هغوی ذکردی اوشرك دَ یهودو دا وؤ چه عزیر(علیه السلام) ته ئے ابن الله وئیلواو شرك دَ عیسایانو دا وؤ چه عیسیٰ(علیه السلام) ته ئے ابن الله وئیلو۔ اوپه دوی کښ دَ عوامو عقیده دا وه چه دوی حقیقتاً ځامن دَ الله تعالیٰ دی۔ اودَ خاصو خلقو عقیده دا وه چه دوی دَ الله تعالیٰ دپاره پشانته دَنازولی ځوئي دی چه پلار دَ هغه خبره منی اوهغه ته ئے اختیارات سپارلی وی او دا دواړه

وَّاحِدًا ۚ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ؕ سُبْحٰنَهٗ عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿٣١﴾ يُرِيْدُوْنَ اَنْ يُّطْفِـُٔوْا نُوْرَ اللّٰهِ بِاَفْوَاهِهِمْ وَيَاْبَى
اللّٰهُ اِلَّآ اَنْ يُّتِمَّ نُوْرَهٗ وَلَوْ كَرِهَ الْكٰفِرُوْنَ ﴿٣٢﴾ هُوَ الَّذِىْٓ اَرْسَلَ رَسُوْلَهٗ بِالْهُدٰى وَدِيْنِ الْحَقِّ
لِيُظْهِرَهٗ عَلَى الدِّيْنِ كُلِّهٖ ۙ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُوْنَ ﴿٣٣﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنَّ كَثِيْرًا مِّنَ الْاَحْبَارِ

یو نیشته حقدار دَبندګئ سیوا دَهغه نه پاك دے اللّٰه تعالیٰ دَهغے نه چه دوی ورسره څه شریك جوړوی (۳۱) کوشش کوی دوی چه مړه کړی رنړا دَ اللّٰه تعالیٰ په خلو خپلو سره اونه غواړی اللّٰه تعالیٰ مګر داخبره چه پوره کړی رنړاخپله اګرچه بدئے ګنړی کافران(۳۲) اللّٰه تعالیٰ هغه ذات دے چه رالیږلے دے رسول خپل په هدایت سره اوپه دین حق سره دے دپاره چه غالب ئے کړی په ټولو دینونو باندے اګرکه بدګنړی ئیے مشرکان (۳۳) اے ایمان والو! یقیناً ډیر دَملیانونه

عقیدے دَ کفردی۔ اودَ دے اُمت په جاهلانوکښ دا دویمه عقیده په کثرت سره موجود ده ﴿قَوْلُهُمْ بِاَفْوَاهِهِمْ﴾ مراد دَ دے نه وینا ہے دلیله ده ﴿قَوْلَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا﴾ مراد دَ دے نه هغه امیان کافران دی چه هغوی ملائکو ته بنات اللّٰه وئیل (لونړه دَ اللّٰه تعالیٰ) یا مراد دَ دے نه مشران دَ دوی دی چه دوی په کفرکښ دَ هغوی تقلید کوؤ ﴿قٰتَلَهُمُ اللّٰهُ﴾ دا دُعاء شر ده (خیرے) اومراد دَ دے نه لعنت دے۔

[۳۱] په دے ایت کښ نور اسباب دَ قتال ذکردی ﴿اَحْبَارَهُمْ﴾ هغه علماؤ ته وائي چه الفاظ او معنیٰ په خائسته طریقے سره راوړی او ﴿رُهْبَانَهُمْ﴾ هغه کسانوته وائي چه یره کوی دَ اللّٰه تعالیٰ نه اوخپل وخت اوعمل خاص دَ اللّٰه تعالیٰ دپاره خرچ کوی لیکن په دے ایت کښ چه اضافت دَ دوی ئیے ضمیر دَ هغوی ته اوکړو دا دلیل دے په دے باندے چه مراد دَ دے نه ناکاره مُلایان او پیران دی چه هغوی به دوی ته شرك اوکفر اوبدعات خائسته کول او وئیل به ئیے چه دا دین دے ﴿اَرْبَابًا﴾ مراد دَ دے نه دانه دے چه دوی ملایان اوپیران خدایان ګنړل۔ دارنګ هغوی لره عبادت ئیے هم نه دے کړے لیکن مراد دا دے که هغوی به دوی لره یوحرام څیز جائزکوونو دوی به جائز ګنړلو اوکه یوحلال څیزبه ئیے حرامولو نودوی به حرام ګنړلو لکه دارنګ حدیث دَ عدی ابن حاتم ﷺ کښ راغلی دی چه ترمذی روایت کړے دے۔ نودَ دینه دا معلومه شوه چه دَ ملایانو اودَ پیرانوخلاف دَ حکم شرعی نه تقلید کول شرك دے ﴿وَالْمَسِيْحَ ابْنَ مَرْيَمَ﴾ دائے جدا ځکه ذکرکړوچه هغه ئیے دَ اللّٰه تعالیٰ سره صرف په عبادت کښ شریك کړے وونه په تابعداریُ کښ بلکه دَ هغه تابعداری ئیے پریښودلے وه اودا شرك فی الالوهیت دے اودا دواړه قسمه شرکونه دَ دے اُمت په جاهلانوکښ هم موجود دی۔

[۳۲] دا بل سبب دَ قتال دے ﴿نُوْرَاللّٰهِ﴾ نه مراد دین توحید دے او ﴿بِاَفْوَاهِهِمْ﴾ نه مراد ہے دلیله خبرے دی ﴿يُرِيْدُوْنَ﴾ مراد دَ ارادے نه کوشش کول دی اوداسے په سورة صف (۸) کښ هم دی ﴿اَنْ يُّطْفِـُٔوْا﴾ بغیرد لام نه ئیے ذکرکړے دے اشاره ده چه نور (رنړا) مړکول دَ دوی اصل مقصد دے۔

[۳۳] دے ایت کښ بیان دَ اتمام دَ نوردے اوبیان دَ صدق دَ اخری پیغمبر دے دَ ﴿هُدٰى﴾ نه مراد اصول اوعقائد دی او ﴿دِيْنِ الْحَقِّ﴾ احکام او فروع دی ﴿لِيُظْهِرَهٗ﴾ دا ضمیر یاراجع دے دین ته، معنیٰ دا ده چه دین اسلام لره په ټولو دینونوغالب کوی په اعتبار دَ دلیلونوسره غالب دے په هره زمانه کښ اوپه اعتبار دَ

وَالرُّهْبَانِ لَيَاْكُلُوْنَ اَمْوَالَ النَّاسِ بِالْبَاطِلِ وَيَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ وَالَّذِيْنَ يَكْنِزُوْنَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلَا يُنْفِقُوْنَهَا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۙ فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ ۙ﴿٣٤﴾ يَّوْمَ يُحْمٰى عَلَيْهَا فِيْ نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوٰى بِهَا جِبَاهُهُمْ وَجُنُوْبُهُمْ وَظُهُوْرُهُمْ ؕ هٰذَا مَا كَنَزْتُمْ لِاَنْفُسِكُمْ فَذُوْقُوْا مَا كُنْتُمْ تَكْنِزُوْنَ ﴿٣٥﴾ اِنَّ عِدَّةَ الشُّهُوْرِ عِنْدَ اللّٰهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا فِيْ كِتٰبِ اللّٰهِ يَوْمَ خَلَقَ

او پیرانونه خامخا خوری مالونه دخلقو په ناروا اومنع کوی خلق دَ لارے دَ اللّٰه تعالیٰ نه اوهغه کسان چه جمع کوی سرهٔ زر اوسپین زر اونه خرچ کوی هغه په لار دَ اللّٰه تعالیٰ کښ پس زیرے ورکړه دوی لره په عذاب درد ناك سره (٣٤) په هغه ورځ چه گرمولے به شی دغه څیزونه په اُور دَجهنم کښ پس داغلے کیږی به په هغے سره تندی دَ دوی او اړخونه دَ دوی اوشاګانے دَ دوی وئیلے کیږی به چه دا هغه شے دے چه جمع کړے وو تاسو دَځانونو دپاره پس اوځکئ سزا دَهغے چه تاسو جمع کول(٣٥) یقیناً شماره دَمیاشتو په نیز دَ اللّٰه تعالیٰ دولس میاشتے دی په حکم دَ اللّٰه تعالیٰ کښ دَ هغه ورځ نه چه پیدا کړی ئے دی

تسلّط سره به غالب وی په زمانه دَ نزول دَ عیسیٰ علیه السلام کښ یا مراد دَ دے نه غلبه دَ دین ده په جزیرة العرب کښ اودا په زمانه دَ نبی ﷺ کښ موجود شوے وه۔

[٣٤] ربط دا دے چه مخکښ ایاتونوکښ دَ دوی دشمنی دَ اسلام سره ذکرکړه نو په دے ایت کښ مؤمنانوته تنبیه ورکوی دَ هغوی دَ مشابهت نه په ذکردَ نورو قبیح صفتونوچه هغه حرص دَ مال اوګمراه کول دَ خلقو اوبخل دی اودا نوراسباب دَ قتال دی مراد دَ ﴿كَثِيْرًا﴾ نه هغه ملیان اوپیران دی چه په ایت یودیرش کښ ذکر شول ﴿لَيَاْكُلُوْنَ﴾ مراد دَ اکل نه اخستل او حاصلول دی لیکن لوئے مقصد دَ هغے خوراك دے دَ دے وجے نه تعبیرئے په اکل سره اوکړو اودارنګ په دے تعبیرکښ ډیره بدی ده چه دوی دَګیلے دپاره دین برباد کړے دے ﴿النَّاسِ﴾ نه مراد دَ دوی مقلدین اومریدان دی چه په(٣١) کښ ذکر شول۔ ﴿بِالْبَاطِلِ﴾ باطل نه مراد هغه ټولے طریقے دی دَ مال دَ حاصلولوچه دَ شرعے نه خلاف وی او هغه خلقوته ثواب بنکاره کوی لکه رشوتونه، اړے، نذرانے وغیره ﴿سَبِيْلِ اللّٰهِ﴾ نه مراد توحید، سنت اوقرآن دے ﴿وَالَّذِيْنَ يَكْنِزُوْنَ﴾ دا هم عطف دے په مخکښ باندے اوصفت دَ احباراورهبان دے او مراد دَکنزنه زکوٰة او واجبات نه ورکول دی اګرچه مالدار وی اودا قول دَ جمهور صحابه کرامو دے سیوا دَ ابوذر رضی الله عنه نه لیکن تائید دَ دهٔ دَ ابوداؤد حدیث دے دَ عمر رضی الله عنه چه هغه دَ دے تفسیردَ رسول اللّٰه ﷺ نه اوتپوسلواو هغه جواب ورکړوحاصل دَ جواب دا وؤچه اللّٰه تعالیٰ چه په زکوٰة کښ ځلویښتمه اوعشر مقررکړے دے اومیراث ئے دَ ورثوحق ګرځولے دے دا دلیل دے چه زیاتی مال جمع کول جائزدی ﴿وَلَا يُنْفِقُوْنَهَا﴾ ها ضمیرکنوزاواموال ته راجع دے۔ فائده : دے ایتونو کښ اګر چه صفات دَ یهودیانو اودَ نصاریٰ دی لیکن دَ دے امت هغه ملیان پکښ هم داخل دی چه په هغوی کښ دا درے صفات وی۔ حدیث دَ بخاری په دے باندے دلیل دے چه په هغے کښ دا الفاظ دی۔نزلت فینا وفیهم (دا ایت نازل شویدے زمونږ په باره کښ اودَ دوی په باره کښ)۔

[٣٥] دے ایت کښ یره اُخروی ذکر ده دپاره دَ دغے مخکښ صفات والو اوپدے ایت کښ دا درے اندامونه ذکردی ځکه چه په وخت دَ لیدلودَ فقراؤ کښ دَ دوی تندے تریوشو اوبیا به ئے اړخ بدلولونوبیا به

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ مِنْهَآ اَرْبَعَةٌ حُرُمٌ ؕ ذٰلِكَ الدِّيْنُ الْقَيِّمُ ۙ فَلَا تَظْلِمُوْا فِيْهِنَّ اَنْفُسَكُمْ
وَقَاتِلُوا الْمُشْرِكِيْنَ كَآفَّةً كَمَا يُقَاتِلُوْنَكُمْ كَآفَّةً ؕ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ مَعَ الْمُتَّقِيْنَ ﴿٣٦﴾ اِنَّمَا النَّسِيْٓءُ
زِيَادَةٌ فِي الْكُفْرِ يُضَلُّ بِهِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا يُحِلُّوْنَهٗ عَامًا وَّيُحَرِّمُوْنَهٗ عَامًا لِّيُوَاطِـُٔوْا عِدَّةَ مَا حَرَّمَ
اللّٰهُ فَيُحِلُّوْا مَا حَرَّمَ اللّٰهُ ؕ زُيِّنَ لَهُمْ سُوْٓءُ اَعْمَالِهِمْ ؕ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿٣٧﴾ ع

اسمانونه اوزمکه دَهغے نه څلور میاشتے دَ عزت دی دا دین کلك دے پس ظلم مه کوئ په دے میاشتو کښ په ځانونو نچلو باندے اوجنګ کوئ دَمشرکانو ټولو سره لکه چه جنګ کوی دوی تاسو ټولو سره او پوهه شئے چه یقیناً اللّٰه تعالیٰ خاص ملګرے دَمتقیانو دے (٣٦) یقیناً روستو کول (دَحرمت دَمیاشت) زیاتوالے دے په کفر کښ زیاتی کیدیشی په دے سره ګمراهی دکافرانو حلال ګنړی دوی هغه میاشت یو کال اوحرامه ګنړی هغه بل کال دے دپاره چه پوره کړی دوی شماره دَ هغه میاشتو چه عزت ورکړیدے اللّٰه تعالیٰ پس حلالوی دوی (په دے طریقے سره) هغه میاشتے چه حرام کړیدی اللّٰه تعالیٰ ډولی کړیشوی دی دوی ته بدعملونه دَ دوی او اللّٰه تعالیٰ توفیق نه ورکوی قوم کافرانوته (٣٧)

ئے شاګرځوله۔ اوبله وجه داده چه دا کنایه ده دَ احاطے دَ څلورو طرفونونه په دے کښ هم علیها او بها ضمیرونه کنوز او اموال ته راجع دی۔

[٣٦] په دے ایت کریمه کښ هم رد دے په اهل کتابوباندے چه دَ هغوی په نیزباندے په کال کښ دَ دولسو میاشتونه څه ورځے زیاتے وی اوبعضِ کلونوکښ دَ هغوی په نیز دیارلس میاشتے وی اودا سبب دے دَګډوډ کولودَ حج اودَ رمضان دارنګے رد دے په مشرکین عرب باندے چه هغوی دَ حرمت په میاشتوکښ تبدیلی کوله اواهل کتابو هم دَ هغوی سره په دے کښ اتفاق کوو ﴿الدِّيْنُ الْقَيِّمُ﴾ قرطبی وئیلی دی چه حق دا ده چه دین په معنیٰ مشهورسره دے اوقَیِّمٌ په معنیٰ دَ مستقیم سره دے ځکه دا دین دَ ابراهیم علیه السلام دے او په دے ایت کښ بیا امردَ قتال دے دَ ټولومشرکینوسره ﴿فَلَا تَظْلِمُوْا فِيْهِنَّ﴾ معنیٰ دا ده چه ظلم مه کوئے په دے ټولو میاشتوکښ په زیاتوالی سره دارنګ په تبدیل سره اوپه مخکښ کولو روستوکولوسره اوپه نوروګناهونو سره۔

فائده ١: دا ایت دلیل دے په دے خبره چه اعتبار په احکامودَ شریعت کښ حساب دَ سپوږمئے ته دے نه حساب دَ نمرته۔

فائده ٢: دَ قمری میاشتے په حساب سره دَ کال ټولے ورځے درے سوه پنځوس دی اودَ نمرپه حساب سره درے سوه پنځه شپیته اوڅلورمه حصه دَ ورځے۔ نوشمسی کال دَ قمری کال نه تقریباً لس ورځے زیات وی نو په درے کاله کښ یومیاشت زیاتیږی نو دیارلس میاشتے دَ کال جوړیږی اودا دَ اللّٰه تعالیٰ دَ قانون نه خلاف دے۔

فائده ٣: ﴿كَآفَّةً﴾ یعنی ټول قسمونه مشرکان یا ټولے میاشتے بناء په روستنئے معنیٰ سره دا ایت ناسخ دے دَ حرمت دَ قتال په میاشتو عزتمنوکښ۔

[٣٧] دے ایت کښ رد دے په یورسم باطل دَ مشرکانوچه هغه تعلق لری دَ میاشتوسره لکه چه تیرشوی ایت کښ رد وڅه کتابیانوپه زیادت دَ میاشتے سره تفصیل ئے دا دے چه درے میاشتے دَ حرمت پرله پسے وے ذوالقعده، ذوالحجه اومحرم۔ نوعرب مشرکینو باندے دا ګرانه وه چه درے میاشتے پرله پسے دَ جنګونو

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَا لَكُمْ اِذَا قِيْلَ لَكُمُ انْفِرُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اثَّاقَلْتُمْ اِلَى الْاَرْضِ ؕ اَرَضِيْتُمْ بِالْحَيٰوةِ الدُّنْيَا مِنَ الْاٰخِرَةِ ۚ فَمَا مَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا فِي الْاٰخِرَةِ اِلَّا قَلِيْلٌ ﴿٣٨﴾ اِلَّا تَنْفِرُوْا يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ۙ وَّيَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ وَلَا تَضُرُّوْهُ شَيْـًٔا ؕ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ

اے ایمان والو! څه عذر دے ستاسو کله چه اوئیلے شی تاسوته اوځئ په لار دَ اللّٰه تعالیٰ کښ نودرانه شئے تاسو زمکے ته (دُنیا ته) آیاخوخ کړیدے تاسو ژوند دُنیوی په بدله دَآخرت کښ پس نه دے سامان دَ ژوند دنیوی په مقابله دَ آخرت کښ مګر لږ دے(۳۸) که اونه ځئ تاسو (جهادله) نو عذاب به درکړی تاسوته اللّٰه تعالیٰ عذاب درد ناك اوستاسو بدله کښ به راولی قوم سیوا ستاسونه او ضرر نشئ ورکولے تاسو اللّٰه تعالیٰ ته هیڅ ضرر او اللّٰه تعالیٰ په هر څیز باندے

کولونه صبر اوکړی نودوی به چه کله په حج کښ دَ مِنانه واپس شول نویوسړے به دَ بنوکنانه او دریدلو چه دَ هغه نوم قلمس وؤ اودَ هغه فیصله به چانه شوه واپس کولے دوی به ورته اُوئیل چه په حرمت دَ محرم کښ مونږ لره النَّسیٔ (روستوالے) اوکړه نوهغه به اُوئیل چه دَ محرم نه حرمت صفر ته نقل شونومیاشت دَ محرم به دوی حلاله کړه بل کال به دا حرمت ربیع الاول ته نقل شوپه داسے طریقه هرکال کښ بلے بلے میاشتے ته به ئیے نقل کوؤ نوپه دے رسم کښ کفر دا وؤ چه دَ حراموتحلیل به ئیے کوؤ ځکه په دے ایت کریمه کښ دیته دَکفر زیاتوالے اُوئیلے شو یعنی دَ دوی نورکفریات هم وؤ لیکن تحریم او تحلیل دَ میاشتودَ خپل ځان دَ طرف نه دابل کار دَکفر وؤ نولکه چه په ایمان کښ زیاتوالے راځی نو دارنګ په کفرکښ هم زیادت راځی ﴿يُضَلُّ بِهِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا﴾ اضلال دَ شیطان په وسوسه دے که انسی اوکه جنی دی ﴿لِيُوَاطِـُٔوْا﴾ یعنی دوی صرف شمار ته اعتبار ورکوی او وصف دَ تحریم بدلوی دَ هغے پرواه نه کوی۔

[۳۸] دَ دے ځائے نه تریوکم سل(۹۹) ایت پورے دریمه حصه دَ سورۃ ده اوپه دے کښ زورنے دی منافقانوته اودَ هغوی شپږاویا (۷۶) صفات قبیحه ذکر دی بغیرد تکرار نه ؛ په هرصفت باندے دپاسه رقم (نمبر) لګولے شویدے اوپدے ایتونوکښ اشاره ده واقعے دَ غزوه تبوك ته چه نهم کال دَ هجرت باندے وه اوبعض منافقینو په هغے سفرکښ شمولیت کړے وو اوبعضِ دَ هغے نه پاتے شوی وؤ دَ وجے دَ نفاق نه اودَ مؤمنانو نه هم بعضِ پاتے شوی وؤ بیا هغوی توبه ویستله اودَ هغوی ذکربه په څلورمه حصه کښ راځی۔ دے ایت کریمه کښ مراد په ﴿اٰمَنُوْا﴾ سره منافقان خلق دی اوپدیکښ دَ منافقینو دوه خصلته ذکردی۔ ﴿اثَّاقَلْتُمْ﴾ مراد دَ دے نه سستی کول دی دَ جهاد نه په محبت دَ دُنیا سره ﴿اِلَى الْاَرْضِ﴾ کنایه ده دَ مزواوسامانونودَ دُنیانه۔ اودَ دے په هغه وخت کښ څلوروجے وے (۱) سخت والے دَګرمئے (۲) لرے والے دَ مسافت(۳) فصلونه او میوے په مدینه کښ پخیدل(٤) مقابله دَ سخت دُشمن سره ﴿مِنَ الْاٰخِرَةِ﴾ من په معنیٰ دَ بدل دے لکه په سورۃ زخرف(٦٠) کښ دی اودا ایت دلیل دے په دے خبره چه قول څیزونه دَ دُنیا په مقابله دَ عمل اخروی کښ لږ دی او داسے په سورۃ نساء (۷۷) کښ هم دی۔

قَدِيْرٌ ﴿٣٩﴾ اِلَّا تَنْصُرُوْهُ فَقَدْ نَصَرَهُ اللّٰهُ اِذْ اَخْرَجَهُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ثَانِيَ اثْنَيْنِ اِذْ هُمَا فِي الْغَارِ اِذْ
يَقُوْلُ لِصَاحِبِهٖ لَا تَحْزَنْ اِنَّ اللّٰهَ مَعَنَا ۚ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ سَكِيْنَتَهٗ عَلَيْهِ وَاَيَّدَهٗ بِجُنُوْدٍ لَّمْ تَرَوْهَا
وَجَعَلَ كَلِمَةَ الَّذِيْنَ كَفَرُوا السُّفْلٰى ۭ وَكَلِمَةُ اللّٰهِ هِيَ الْعُلْيَا ۭ وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿٤٠﴾ اِنْفِرُوْا
خِفَافًا وَّثِقَالًا وَّجَاهِدُوْا بِاَمْوَالِكُمْ وَاَنْفُسِكُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۭ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ
تَعْلَمُوْنَ ﴿٤١﴾ لَوْ كَانَ عَرَضًا قَرِيْبًا وَّسَفَرًا قَاصِدًا لَّاتَّبَعُوْكَ وَلٰكِنْۢ بَعُدَتْ عَلَيْهِمُ الشُّقَّةُ ۭ

قدرت لرونکے دے (٣٩) که امداد نه کوئ تاسو دَ دے رسول سره نو یقیناً امداد کړیدے دَ دهٔ سره الله تعالیٰ کله چه ویستلے وو دهٔ لره کافرانو دویم دَ دوؤنه کله چه دواړه په غار کښ وو کله چه اووئیل پیغمبر ملګری خپل ته مه خفه کیږه یقیناً الله تعالیٰ ځمونږ ملګرے دے پس راولیږله الله تعالیٰ تسلی په هغه باندے او کلك ئے کړو دے په داسے لښکرو سره چه تاسونه لیدلے هغه او اوګرځوله الله تعالیٰ کلمه دَ کافرانو لاندے او کلمه دَ الله تعالیٰ هغه اوچته ده او الله تعالیٰ زور اور دے حکمتونو والا دے (٤٠) اوځئ که سپك یئ او که درانهٔ یئ اوجهاد کوئے په مالونو خپلو سره اوپه نفسونو خپلو سره په لار دَ الله تعالیٰ کښ دا ډیره فائده ده ستاسو دپاره که تاسو پوهیږئ (٤١) که (غزوه دَتبوك) وے سامان آسان حاصلیدونکے او سفر درمیانه خامخا دوی به تلے وے تاسره لکن لرے شوے دے په دوی باندے سفر

[٣٩] دے ایت کښ یره ورکول دی په عذاب اوپه هلاکت سره په سبب دَ پریښودلودَ جهاد۔ عذاب اګرچه عام دے لیکن بعضو روایاتو کښ (روایات دَ ابوداؤد) دَ هغے مثال ذکرکړے دے په ځوکړے سره۔ ﴿عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ﴾ نوقدرت لری په بدلولودَ قومونواوپه نصرت باندے بغیرد لښکرنه لکه چه ورپسے ایت کښ ذکردی۔

[٤٠] دے ایت کښ زورنه ده په پریښودلودَ جهاد اوپه دے کښ اشاره ده واقعے دَ هجرت دَ رسول الله ﷺ ته چه په دے هجرت کښ ابوبکر ﷺ دَ هغه ملګرے وؤ اوبیا دواړه درے ورځے په غارثورکښ پاتے شوی وؤتفصیل دَ واقعے محدثینو ذکرکړے دے اوپه دے ایت کښ فضیلت دَ ابوبکر ﷺ دے اودلیل دے دَ هغه په صحابیت باندے نوچه ځوك دَ هغے نه انکارکوی نوهغه کافردے ﴿اِلَّا تَنْصُرُوْهُ﴾ جزاء حذف ده۔ فالله متکفل به (الله ذمه واردے دَ مدد دَ هغه) ﴿ثَانِيَ اثْنَيْنِ﴾ په معنیٰ دَ احدهما دے اودا لفظ دلیل دے چه دَ دوؤ نه زیات نه وؤ اودلیل دے په اولیت دَ نبی ﷺ یعنی هغه اول وؤاوابوبکر ﷺ دویم وؤ ﴿لِصَاحِبِهٖ﴾ مرادپه دے کښ صحبت دینیه دے ځکه چه صحبت دَ غارئیے خومخکښ ذکرکړو ﴿لَا تَحْزَنْ﴾ حزن اوخوف په انبیاء علیهم السلام باندے هم راځی لکه په یعقوب اوابراهیم اوموسیٰ اولوط علیهم السلام راغلے وؤ نودا نقصان نه دے او قرطبی وئیلی دی چه دا حزن دَ ابوبکرپه باره دَ نبی ﷺ کښ دے نودا خوکمال دے ﴿كَلِمَةَ الَّذِيْنَ﴾ مراد دَ دے نه ټول اقوال اواعمال دَکفردی او دارنګ ارادے دَکافرانوپه باره دَ قتل دَ نبی ﷺ کښ۔

[٤١] دے ایت کښ امردے دپاره دَ فرضیت دَ قتال په هرحالت کښ اوخفافاً وَ ثقالاً په دے کښ دَ مفسرینولس(١٠) اقوال دی بعض دَ هغے نه دا دی (١) خِفافاً لږے وسلے والا اوثقالاً ډیرے وسلے والا۔

وَسَيَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ لَوِ اسْتَطَعْنَا لَخَرَجْنَا مَعَكُمْ ۚ يُهْلِكُوْنَ اَنْفُسَهُمْ ۚ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ اِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ﴿٤٢﴾
عَفَا اللّٰهُ عَنْكَ ۚ لِمَ اَذِنْتَ لَهُمْ حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَكَ الَّذِيْنَ صَدَقُوْا وَتَعْلَمَ الْكٰذِبِيْنَ ﴿٤٣﴾ لَا يَسْتَاْذِنُكَ
الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ اَنْ يُّجَاهِدُوْا بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ ۗ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ
بِالْمُتَّقِيْنَ ﴿٤٤﴾ اِنَّمَا يَسْتَاْذِنُكَ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَارْتَابَتْ قُلُوْبُهُمْ فَهُمْ

او زردے چه قسمونه به اوکړی دوی په الله تعالی سره که طاقت لرلے مونږه خامخا وتلے به وے مونږ تاسو سره هلاکوی دوئ ځانونه ځپل (په دروغ قسم) او الله تعالی پوهیږی چه یقیناً دوی دروغژن دی (٤٢) معافے کړیدے تاته الله تعالی په څه وجه اجازت اوکړوتا دویته ترهغے چه بنکاره شوی وے تاته هغه کسان چه رشتیاوائی اوپیژندلے وے تا دروغژن(٤٣) اجازت نه غواړی ستانه هغه کسان چه ایمان لری په الله تعالی اوپه ورځ روستنئے (په پریخو دلودَ دے) چه جهاد اوکړی په مالونو خپلو او په نفسونو خپلو سره او الله تعالی پوهه دے په متقیانو باندے(٤٤) یقیناً اجازت غواړی ستانه (دَجهاد پریخودلو) هغه کسان چه نه لری ایمان په الله تعالی اوپه ورځ روستنئے اوشك کړیدے زړونو دَ دوی پس دوی

(٢) خفافاً فقیران، ثقالاً مالدار، وغیره۔ لیکن په دے کښ معذورین داخل نه دی نو ایت منسوخ نه دے۔

[٤٢] په دے ایت کښ زورنه ده منافقینوته په پریښودلودَ جهاد سره اوځلور صفات قبیحه دی اومطلب دَ ایت دا دے چه سفر دَ تبوك ډیر او ږد وؤ اودَ مدینے منورے نه تقریبا اته سوه (٨٠٠) کلومیټره لرے وؤ اوپه هغے کښ غنیمت حاصلول هم ګران وؤ ځکه چه دُشمن قوم هم سخت وؤ په جنګ کښ دَ دے وجے نه بعضِ منافقان دَ دے سفر نه پاتے شول او دے ایت کښ دلیل دے په دے خبره چه په دروغه قسم کول سبب دَ هلاکت دے ﴿عَرَضًا﴾ دَ دُنیا ټولو مالونو ته عرض وئیلے شی ځکه عارضی ځیزونه دی ﴿وَسَيَحْلِفُوْنَ﴾ یعنی هر کله اے نبی ته دوی ته واپس لاړشے نو دوی به قسمونه کوی۔

[٤٣] په دے ایت کښ په نیزدَ عمروبن میمون عتاب دے رسول اللهﷺ ته په نرمے لهجے سره ځکه چه رسول اللهﷺ بعض منافقینوته اجازت ورکړے وؤدَ پاتے کیدلودَ جهاد نه کله چه هغوی اجازت طلب کړے وؤ لیکن رسول اللهﷺ پوهه نه وؤدَ هغوی په دروغو باندے نوپه دے کښ څه ګناه په نبیﷺ باندے نیشته اوقاضی عیاض په شفاء کښ وئیلی دی چه دا عتاب نه دے۔

فائده: اودا ایت صریح دلیل دے په دے خبره چه پیغمبرغیب دان نه دے۔

[٤٤] دے ایت کښ صفت دَ مؤمنانوذکر دے چه هغوی بغیردَ عذرنه دَ جهاد نه نه پاتے کیږی اونه دَ پیغمبرنه دَ پاتے کیدلو اذن غواړی۔ سوال: په سورة نور(٦٢) کښ صفت دَ مؤمنانواستیذان دے اودلته عدم استیذان؟ جواب: دا دے چه په هغه سورة کښ ذکردَ استیذان دے دپاره دَ رخصت کیدلودَ مجلس دَ نبیﷺ نه اوپه دے سورة کښ ذکردَ استیذان دے دَ پریښودلودَجهاد۔

فِيْ رَيْبِهِمْ يَتَرَدَّدُوْنَ ﴿٤٥﴾ وَلَوْ اَرَادُوا الْخُرُوْجَ لَاَعَدُّوْا لَهٗ عُدَّةً وَّلٰكِنْ كَرِهَ اللّٰهُ انْۢبِعَاثَهُمْ
فَثَبَّطَهُمْ وَقِيْلَ اقْعُدُوْا مَعَ الْقٰعِدِيْنَ ﴿٤٦﴾ لَوْ خَرَجُوْا فِيْكُمْ مَّا زَادُوْكُمْ اِلَّا خَبَالًا وَّلَاَ اَوْضَعُوْا
خِلٰلَكُمْ يَبْغُوْنَكُمُ الْفِتْنَةَ ۚ وَفِيْكُمْ سَمّٰعُوْنَ لَهُمْ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِالظّٰلِمِيْنَ ﴿٤٧﴾ لَقَدِ ابْتَغَوُا
الْفِتْنَةَ مِنْ قَبْلُ وَقَلَّبُوْا لَكَ الْاُمُوْرَ حَتّٰى جَآءَ الْحَقُّ وَظَهَرَ اَمْرُ اللّٰهِ وَهُمْ كٰرِهُوْنَ ﴿٤٨﴾ وَمِنْهُمْ

دَوجے دَشك نه ګڼلو ډې دی(٤٥) او که دوی نیت لرلے دَوتلو دَجهاد خامخا دوی به تیارے کړے وے هغے لره دَ سامان لیکن بدګنړلی دی اللّٰه تعالیٰ پورته کیدل دَ دوی (جهاد دپاره) پس منع ئے کړل دوی لره (دَوتلو دَجهادنه) او اوئیلے شو دوی ته کینئ دَکیناستونکو سره (٤٦) که دوی وتلی وے په لښکر ستاسو کښ نه به ووزیات کړے دوی تاسو لره مګر نقصان اوخامخا منډے به وهلے وے دوی په مینځ ستاسو کښ (په چغل خورئے سره) غواړی دوی پتاسو کښ اختلاف اوپه (لښکر) ستاسو کښ جاسوسان دَ دوی شته او اللّٰه تعالیٰ ښه پوهه دے په ظالمانو باندے (٤٧) یقیناً غوښتلے وه دوی فتنه مخکښ دَ دینه اوجوړ کړے وودوی ستا په خلاف کښ ډیر مکرونه تردے چه راغے حق اوښکاره شو دین دَ اللّٰه تعالیٰ او دوی بدګنړی (٤٨) اوبعضے دَ دوی نه

[٤٥] دے ایت کښ زورنه ده منافقینو ته او په دے کښ هم دَ هغوی ځلور صفات قبیحه ذکر دی او دلته استیذان په باره دَ پریښودلو دَ جهاد کښ مراد دے ﴿وَارْتَابَتْ﴾ دا صیغه د لالت کوی په کلك شك باندے چه هغه په طریقه دَ انکار سره دے او دا علت دے دَ لایؤمنون دپاره ﴿يَتَرَدَّدُوْنَ﴾ یعنی حیران دی چه مؤمنانو سره شی او که کافرانو سره شی۔

[٤٦] دے ایت کښ هم زورنه ده منافقینوته چه هغوی دَ جهاد نیت هم نه لری اونه دَ هغے دپاره تیارے کوی ځکه چه لفظ دَ لَودلالت کوی په نفی باندے اوتیارے نه کول مخالفت دَ هغه امرنه دے چه په سورة انفال (٦٠) کښ وؤ اوپه دے ایت کښ دوه صفات قبیحه دَ منافقینو دی ﴿وَلٰكِنْ﴾ نه روستودرے جملے دلیل دے چه معصیتونو دَ انسانانو پورے اراده دَ اللّٰه تعالیٰ متعلق ده ﴿انْۢبِعَاثَهُمْ﴾ دَ جهاد دپاره تلل په صحیح نیت سره نه وؤ اوپه ناراستئے سره وؤدَ دے وجے نه په دے لفظ سره ئے تعبیراوشوپه لفظ دَ خروج سره ئے تعبیرنه دے کړے ﴿قِيْلَ﴾ دا قول دَ تقدیرالٰهی دے یا قول دَ رسول اودَ صحابودے منافقانوته ﴿قَاعِدِيْنَ﴾ نه مراد ړانده او ګوډ او زنانه او واړه دی۔

[٤٧] دے ایت کښ مؤمنانوته تسلّی ده په پاتے کیدلودَ منافقینودَ جهادنه او زورنه ده منافقینوته په ذکردَ پنځو صفاتوقبیحو اودا علت دے دپاره دَکَرِهَ اللّٰه اه یعنی دَ دوی په وتلو کښ ډیرمفاسد دی ﴿اِلَّا خَبَالًا﴾ که ما قبل کښ لفظ دَ شیئاً مقدرشی نو دا استثناء متصل ده اوکه خیرا مقدرشی نواستثناء منقطع ده اوله توجیه غوره ده ﴿الْفِتْنَةَ﴾ مراد دَ دے نه اختلاف اودَ جهاد نه واپس کول اودَ دین نه اړول دی ﴿وَفِيْكُمْ﴾ په دے کښ مراد هغه منافقان دی چه په سفردَ تبوك کښ شریك وؤدپاره دَ جاسوسئے کولو۔

[٤٨] پدے کښ هم زورنه ده منافقینوته په ذکردَ دریو صفاتو قبیحو اودا دلیل دے دپاره دَ لزوم دَ هغه مفاسدو چه په تیرشوی ایت کښ ذکردی ﴿لَقَدِ ابْتَغَوُا الْفِتْنَةَ﴾ په دے کښ اشاره ده ښکاره کولودَ منافقت

مَّنْ يَّقُوْلُ ائْذَنْ لِّيْ وَلَا تَفْتِنِّيْ ؕ اَلَا فِي الْفِتْنَةِ سَقَطُوْا ؕ وَاِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيْطَةٌۢ بِالْكٰفِرِيْنَ ﴿٤٩﴾ اِنْ
تُصِبْكَ حَسَنَةٌ تَسُؤْهُمْ ۚ وَاِنْ تُصِبْكَ مُصِيْبَةٌ يَّقُوْلُوْا قَدْ اَخَذْنَآ اَمْرَنَا مِنْ قَبْلُ وَيَتَوَلَّوْا
وَّهُمْ فَرِحُوْنَ ﴿٥٠﴾ قُلْ لَّنْ يُّصِيْبَنَآ اِلَّا مَا كَتَبَ اللّٰهُ لَنَا ۚ هُوَ مَوْلٰىنَا ۚ وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ
الْمُؤْمِنُوْنَ ﴿٥١﴾ قُلْ هَلْ تَرَبَّصُوْنَ بِنَآ اِلَّآ اِحْدَى الْحُسْنَيَيْنِ ؕ وَنَحْنُ نَتَرَبَّصُ بِكُمْ اَنْ يُّصِيْبَكُمُ
اللّٰهُ بِعَذَابٍ مِّنْ عِنْدِهٖٓ اَوْ بِاَيْدِيْنَا ۚ فَتَرَبَّصُوْٓا اِنَّا مَعَكُمْ مُّتَرَبِّصُوْنَ ﴿٥٢﴾ قُلْ اَنْفِقُوْا طَوْعًا اَوْ

هغه څوك دی چه وائی اجازت راکړه ماته (دَپاتے کیدلو) اومه اچوه ماپه فتنه کښ خبردار شئے په فتنه کښ دوی پریوتی دی اویقیناً جهنم خامخا راګیروونکے دے کافرانو لره (٤٩) که اورسی تاته خوشحالی نوخفه کوی دوی لره او که اورسی تاته څه مصیبت نووائی دوی یقیناً عمل کړیدے مونږ په تدبیر خپل مخکښ دَ دینه او اوګرځی دوی (ستاسونه) اوحال دا دے چه دوی خوشحالی کوی (٥٠) ته اُوایه هیڅ کله اوبه نه رسی مونږته مګر هغه څه چه مقرر کړیدی اللّٰه تعالیٰ مونږ لره هغه مولا ځمونږ دے اوخاص په اللّٰه تعالیٰ دے ځان سپاری مؤمنان(٥١) ته اووایه چه انتظار نه کوئ تاسو په باره ځمونږ کښ مګر یو دَ دوو خوشحالونه او مونږ انتظار کوو ستاسو په باره کښ چه اوبه رسوی تاسوته اللّٰه تعالیٰ عذاب دَخپل طرف نه یاپه لاسونو ځمونږ پس انتظار کوئ یقیناً مونږ ستاسو سره انتظار کوونکی یو (٥٢) ته اووایه خرچ کوئ په خوښه یا

ته په تیرو شوؤ غزاګانو کښ لکه غزوهٔ احد اوغزوهٔ احزاب ﴿وَقَلَّبُوْا لَكَ الْاُمُوْرَ﴾ دَ دے یومطلب دا دے چه دوی دَ پیغمبردَ قتلولودپاره وخت په وخت تدبیرونه جوړ کړی وؤ۔

[٤٩] دا هم زورنه ده منافقینوته اویوقسم دَ هغے منافقینوذکر دے چه دَ غزوه تبوك نه پاتے شوی وؤچه دَ هغه یونوم جد ابن قیس وؤ اوپه دے کښ دَ هغوی دوه صفاتِ قبیحه دی ﴿فِي الْفِتْنَةِ﴾ پاتے کیدل دَ جهاد نه اومخالفت کول دَ نبیﷺ نه فتنه ده۔

[٥٠] دا هم زورنه ده منافقینوته اوپه دے کښ دَ هغوی درے صفات قبیحه دی ﴿اَخَذْنَآ اَمْرَنَا﴾ مراد دَ دے نه خپل ځان ته هوښیار وئیل دی چه دَ هغے دَ وجے نه دَ قتال نه پاتے شول ﴿تَسُؤْهُمْ﴾ دا دَ حسد دَ وجے نه۔ ﴿حَسَنَةٌ﴾ مراد دَ د ینه نصرت او غنیمت دے۔

[٥١] دا اول جواب دے منافقانو ته چه کله هغوی په مصیبت دَ مؤمنانو خوشحاله شی نو هغوی ته به داسے جواب کیدے شی اودا دلیل دے چه تقدیردَ اللّٰه تعالیٰ لیکلے شوے دے دَ مخکښ نه اوپه هغے باندے ایمان راوړل فرض دی ﴿هُوَ مَوْلٰىنَا﴾ په دے کښ اشاره ده چه په تقدیردَ اللّٰه تعالیٰ کښ هرقسم خیردے دپاره دَ مؤمنانو ﴿وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ﴾ یعنی ایمان په تقدیرباندے مستلزم دے توکل کولو لره۔

[٥٢] دا دویم جواب دے دَ قول دَ منافقینو اوپه دے کښ دَ هغوی دوه صفات قبیحه ذکردی ﴿حُسْنَيَيْنِ﴾ نه مراد فتح ده سرهٔ دَ غنیمت نه اوشهادت دے ﴿نَتَرَبَّصُ بِكُمْ﴾ دَ دے نه روستواحدی السّوء تَین مقدردے او روستودَ هغے دواړو تفصیل ذکر دے۔

كَرْهًا لَّنْ يُّتَقَبَّلَ مِنْكُمْ ؕ اِنَّكُمْ كُنْتُمْ قَوْمًا فٰسِقِيْنَ ﴿٥٣﴾ وَمَا مَنَعَهُمْ اَنْ تُقْبَلَ مِنْهُمْ نَفَقٰتُهُمْ
اِلَّآ اَنَّهُمْ كَفَرُوْا بِاللّٰهِ وَبِرَسُوْلِهٖ وَلَا يَاْتُوْنَ الصَّلٰوةَ اِلَّا وَهُمْ كُسَالٰى وَلَا يُنْفِقُوْنَ اِلَّا وَهُمْ
كٰرِهُوْنَ ﴿٥٤﴾ فَلَا تُعْجِبْكَ اَمْوَالُهُمْ وَلَآ اَوْلَادُهُمْ ؕ اِنَّمَا يُرِيْدُ اللّٰهُ لِيُعَذِّبَهُمْ بِهَا فِى الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا
وَتَزْهَقَ اَنْفُسُهُمْ وَهُمْ كٰفِرُوْنَ ﴿٥٥﴾ وَيَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ اِنَّهُمْ لَمِنْكُمْ ؕ وَمَا هُمْ مِّنْكُمْ وَلٰكِنَّهُمْ
قَوْمٌ يَّفْرَقُوْنَ ﴿٥٦﴾ لَوْ يَجِدُوْنَ مَلْجَاً اَوْ مَغٰرٰتٍ اَوْ مُدَّخَلًا لَّوَلَّوْا اِلَيْهِ وَهُمْ يَجْمَحُوْنَ ﴿٥٧﴾ وَمِنْهُمْ

په ناخوښه هیڅ کله به قبول نه کړے شی ستاسونه یقیناً تاسویئ قوم نافرمان (٥٣) اونه دی منع کړی دی چه قبول کړے شی دَ دوی نه خیراتونه دَ دوی مګر دِ خبرے چه دوی کفر کړیدے په اللّٰه تعالیٰ اوپه رسول دَهغه اونه راځی دوی مانځه ته مګر په داسے حال چه ناراست وی اونه خرچ کوی دوی مګر په داسے حال کښ چه بدئے ګڼړی(٥٤) پس تعجب کښ د وانه چوی تاله مالونه دَ دوی اونه اولاد دَ دوی یقیناً غواړی اللّٰه تعالیٰ (په دے ډیروالی دَمالونو او اولاد دَ دوی سره) چه عذاب ورکړی دوی لره په هغے سره په ژوند دُنیوی کښ او اوځی روحونه دَ دوی په داسے حال چه دوی به کافروی (٥٥) اوقسمونه کوی دوی په اللّٰه تعالیٰ چه یقیناً دوی ستاسو دَ ډلے نه دی اونه دی دوی ستاسو دَ ډلے نه لیکن دوی داسے قوم دے چه یریږی (٥٦)که دوی موندلے وے ځائے دَپناه یاغارونه یاسمستے خامخا ورغلی به وو هغے ته په داسے حال چه منډے به ئے وهلے (٥٧) اوبعضے دَ دوی نه

فائده: تبرص اکثرپه هغه ځائے کښ ذکرکیږی چه ضرور واقع کیږی او انتظار عام دے واقع کیدونکی اونه واقع کیدونکی دواړو کښ استعمالیږی۔

[٥٣] دے ایت کښ هم دوه صفات قبیحه دی دَ منافقینو ﴿اَنْفِقُوْا﴾ دا امرپه معنیٰ دَ خبردے یعنی دَ انفاق دواړه قسمونه په نه قبلیدلوکښ برابردی دا ایت دلیل دے په دے خبره چه نیك اعمال په کفر اوپه نفاق سره باطلیږی ﴿فَاسِقِيْنَ﴾ دَ فسق نه مراد فسق اعتقادی دے یعنی کفر۔

[٥٤] دا ایت تفصیل دَ فسق دے چه مانع دے دَ قبولیت دَ نفقاتونه اوپه دے ایت کښ درے صفات قبیحه دَ هغوی ذکردی یعنی په دوی کښ ایمان نیشته او عبادات بدنیه او مالیه هم دَ عبادت په طور باندے نه کوی۔

[٥٥] هرکله چه مخکښ ایت کښ ذکرشو چه دَ دوی نفقات نه قبلیږی نو دے ایت کښ په هغے باندے تفریع ده په حرف دَ فاء سره چه دَ دوی مالونه بے فائدے دی چه په هغے څه ثواب نه ملاویږی او اولاد ئے هم بے فائدے دے بلکه دا دواړه سبب دَ عذاب دَ دوی دے او هرچه مؤمن مالدار دے نودَ هغه کسب مشقت مصیبتونه سبب دَ اجر دی نو هغه عذاب نه دے۔

[٥٦] په دے ایت کښ هم زورنه ده منافقینوته اودَ هغوی دوه صفات قبیحه دی هرکله چه دَ دوی علامات دَ کفر ذکرشول نودوی دَ مؤمنانودَ دهوکه کولو دپاره دروغ قسمونه شروع کړل چه مونږدَکافرانوسره نه یوبلکه ستاسوملګری یو ﴿وَلٰكِنَّهُمْ﴾ نه روستو عبارت پټ دے یعنی لکنهم یظهرون الیکم الایمان یعنی دوی ایمان ښکاره کوی دَ وجے دَ یرے نه ﴿يَفْرَقُوْنَ﴾ دَ فرق نه ماخوذ دے یره سرهٗ دَ

مِّنْ يَّلْمِزُكَ فِي الصَّدَقٰتِ ۚ فَاِنْ اُعْطُوْا مِنْهَا رَضُوْا وَاِنْ لَّمْ يُعْطَوْا مِنْهَآ اِذَا هُمْ يَسْخَطُوْنَ ﴿٥٨﴾
وَلَوْ اَنَّهُمْ رَضُوْا مَآ اٰتٰىهُمُ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ ۙ وَقَالُوْا حَسْبُنَا اللّٰهُ سَيُؤْتِيْنَا اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ
وَرَسُوْلُهٗٓ ۙ اِنَّآ اِلَى اللّٰهِ رٰغِبُوْنَ ﴿٥٩﴾ اِنَّمَا الصَّدَقٰتُ لِلْفُقَرَآءِ وَالْمَسٰكِيْنِ وَالْعٰمِلِيْنَ عَلَيْهَا ع ١٢
وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوْبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغٰرِمِيْنَ وَفِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَابْنِ السَّبِيْلِ ۭ فَرِيْضَةً مِّنَ
اللّٰهِ ۭ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿٦٠﴾ وَمِنْهُمُ الَّذِيْنَ يُؤْذُوْنَ النَّبِيَّ وَيَقُوْلُوْنَ هُوَ اُذُنٌ ۭ قُلْ اُذُنُ خَيْرٍ

هغه څوك دی چه عیب لګوی په تاباندے په تقسیم دَ زکاتونو کښ نو که ورکړے شی دوی ته دَهغے نه نوخوشحاله شی دوی اوکه ورنکړیشی دوی ته دَهغے نه نودغه وخت دوی خفګان کوی (٥٨) اوکه دوی خوشحاله شوے وے په هغے چه ورکړیدے دویته اللّٰه تعالیٰ او رسول(ﷺ) دَهغه او دوی وئیلے وے چه پوره دے مونږ لره اللّٰه تعالیٰ زردے چه رابکړی مونږ ته اللّٰه تعالیٰ دَفضل خپل نه او رسول(ﷺ) دَهغه (په تقسیم کولوسره) یقیناً مونږ خاص اللّٰه تعالیٰ ته رغبت کوونکی یو (٥٩) یقیناً زکاتونه ورکیدے شی محتاجوته اوغریبانوته اوکارکوونکو ته چه مقرر وی په هغے باندے اوهغه څوك چه خوشحالولے شی زړونه دَهغوی اوپه آزادولو دَستونو کښ اوقرضدارونه اوپه لار دَ اللّٰه تعالیٰ کښ او مسافروته فرض کړے شوے دے دَطرف دَ اللّٰه تعالیٰ نه او اللّٰه تعالیٰ پوهه دے حکمتونو والادے (٦٠) او بعضے دَ دوی نه هغه کسان دی چه خفه کوی نبی(ﷺ) لره اووائی دوی چه دے هره خبره منونکے دے ته اُوایه چه دے منونکے دَخیر دَخبرے دے

جزع اودَ هیبت نه نودا دَ خوف نه زیاته ده۔ مراد دَ یَفرقُون نه دا دے چه دوی یریږی دَ دے خبرے نه چه هسے نه چه زمونږ نفاق ښکاره شی اومسلمانان مونږ لره قتل کړی۔

[٥٧] دا هم زورنه ده منافقینو ته اوبیان دَ خوف دَ هغی دے اوپدیکښ یوصفت قبیحه دے ﴿مَلْجَاً﴾ ځائے دَ پناهئی لکه قلعه ګانے ﴿مَغَارَاتٍ﴾ اوغارونه چه په غرونو کښ وی ﴿مُدَّخَلًا﴾ هغه سمستے چه په زمکه کښ وی ﴿يَجْمَحُوْنَ﴾ جمح هغه منډه دَ اَس ده چه په واګے سره هم نه حصاریږی۔

[٥٨] په دے ایت کښ هم زورنه ده منافقینو ته اوپه دے کښ درے صفات قبیحه دی اودا ایت دلیل دے په دے خبره چه څوك دَ پیغمبرپه یوطریقه باندے اعتراض کوی نو هغه منافق دے۔ دارنګ هغه څوك چه دَ دین کارکوی دَ مالی مفاداتو دپاره نوهغه منافق دے اودَ دے پشان په سورۃ بقره (٢٠) کښ هم دی۔

[٥٩] دا ترغیب دے دَ خائسته اخلاقوچه په هغے سره دَ نفاق نه بچ کیږی ﴿وَلَوْ﴾ جزا دَ دے محذوف ده یعنی لکان خیرا لهم (دَ دوی دپاره به غوره وے) ﴿وَرَسُوْلُهٗ﴾ دَ ورکولودَ رسول اللّٰه ﷺ نه مراد په دے ځائے کښ دَ زکوٰۃ اودَ غنیمت نه حصے ورکول دی په امردَ اللّٰه تعالیٰ سره اودَ دے تشریح په حدیث صحیح کښ ده چه انماانا قاسم و اللّٰه یعطی۔ نود دے ایت نه دَ مشرکانو دلیل نیول چه نبی هم اختیارمند دَ نفع اوضرر دے دا غلط دے ځکه په دے کښ مراد په طریقه دَ تقسیم سره ورکول دی ﴿اِلَى اللّٰهِ﴾ معنی دا چه مونږمال طرف ته رغبت نه کوؤ بلکه دَ اللّٰه تعالیٰ رضا طرف ته رغبت لرو۔

لَكُمْ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَيُؤْمِنُ لِلْمُؤْمِنِيْنَ وَرَحْمَةٌ لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ ؕ وَالَّذِيْنَ يُؤْذُوْنَ
رَسُوْلَ اللّٰهِ لَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٦١﴾ يَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ لَكُمْ لِيُرْضُوْكُمْ ۚ وَاللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗٓ

ستاسو ایمان لری په الله تعالیٰ اوخبره منی دَمؤمنانو اورحمت دے دپاره دَایمان والو ستاسونه او هغه کسان چه خفه کوی رسول(ﷺ) دَ الله تعالیٰ لره دوی له عذاب درد ناك دے(٦١) قسمونه کوی په الله تعالیٰ تاسوته دے دپاره چه رضاکړی تاسو لره او الله تعالیٰ اورسول(ﷺ) دَهغه

[٦٠] په دے ایت کښ بیان دَ مصارفودَ زکوٰة دے اومقصد په دے کښ رد دے په هغه منافقینوچه هغوی په نبیﷺ باندے اعتراض کوؤپه تقسیم دَ صد قاتوکښ۔ فقیر اومسکین کښ فرق دے په ډیرو طریقو سره مشهور په هغے کښ دا دے چه فقیرهغه دے چه دَ هغه دَ ګذارے کولودپاره څه مال وی لیکن دَ نصاب نه کم وی اومسکین هغه څوك دے چه دَ هغه دپاره هیڅ څیزنه وی اودویم قول دَ دے په عکس سره دے اودافرق دَ دے په هغه وخت کښ دے چه دوی یوځائے کښ ذکرشی اوهرکله چه جدا جدا ذکر وی نودَ دواړو یوشان معنیٰ وی ﴿الْغٰرِمِيْنَ﴾ مراد دَ دے نه هغه کسان دی چه هغوی دَ امیردَ طرف نه مقررکړے شوی وی دپاره دَ جمع کولودَ زکوٰة دَ مال دَ مالدارو خلقو نه اګرچه مالدار وی نودهٗ لره به هم ورکیدے شی دَ زکوٰة نه په قدر دَ عمل دَ هغه ځکه چه دے بند دے په خدمت دَ فقراؤ کښ اوپه دے کښ لیکونکے اوتقسیم کوؤنکے اوساعی اوعاشر اوخوکیدارو غیره ټول داخل دی ﴿وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوْبُهُمْ﴾ دا ډیر قسمونه دی اول هغه چه اسلام ئے ښکاره کوؤ لیکن یقین ئے کمزورے وؤنو دوی له هم زکوٰة ورکیدے شو دپاره دَ الفت دَ زړونو دَ دوی دویم هغه دی چه کافروی خو دَهغه نه امید دَ ایمان کیدیشی۔ اودَ دوی دَ حصے په منسوخ کیدلوکښ روستودَ وفات دَ نبی ﷺ نه اختلاف دے خو غوره دا ده چه په وخت دَ ضعف دَ اسلام کښ دا حصه ورکول پکار دی او دا قول ابن کثیرهم غوره کړے دے ﴿الْغٰرِمِيْنَ﴾ مراد دَ دے نه هغه کسان دی چه هغوی دَ نیکئی په یوکارکښ یا دَ عاموخلقودَ فائدے دپاره یا دَ دوؤ ډلودَ صلح کولودپاره تاوان په ځان باندے کیښود اودے مالدار وؤ لیکن مال دَ دهٗ دَ تاوان نه کم وؤ نودهٗ لره هم زکوٰة ورکول پکار دی ﴿وَفِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ﴾ مراد دَ دے نه غازیان دی ورکیدے شی دوی ته زکوٰة دپاره دَ خرچ دَ غزا۔ په دے کښ طالبان دَ علم دین اودارنګ دعوت کوونکی دَ دین په دے کښ داخل دی۔

[٦١] دا زورنه ده منافقینوته اوپه دے ایت کښ دوه صفات قبیحه دَ هغوی ذکردی مطلب دا دے چه دوی په نبیﷺ پسے بدے خبرے کولے اوپه هغه به ئے عیبونه لګول که دوی ته به او وئیلے شوکه نبیﷺ خبرشی نوستاسونه به خفه شی نودوی به وئیل چه هغه هره خبره قبلوی او که مونږ ورته په دروغه بهانه اوکړو نو هغه به ضرور قبوله کړی نوجواب کښ او وئیلے شول چه دا نبیﷺ ایمان په الله تعالیٰ لری اوخبرے دَ مؤمنانوقبلوی دَ منافقانودَ خبرے تصدیق نه کوی ﴿اُذُنٌ﴾ په اصل کښ غوږته وئیلے شی دلته مراد هغه څوك دے چه دَ غوږپه شان هره خبره اوهرعذر قبلوی نو اُذُنٌ ورته مبالغةً وئیلے شی۔

اَحَقُّ اَنْ يُّرْضُوْهُ اِنْ كَانُوْا مُؤْمِنِيْنَ ﴿٦٢﴾ اَلَمْ يَعْلَمُوْٓا اَنَّهٗ مَنْ يُّحَادِدِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَاَنَّ
لَهٗ نَارَ جَهَنَّمَ خَالِدًا فِيْهَا ؕ ذٰلِكَ الْخِزْيُ الْعَظِيْمُ ﴿٦٣﴾ يَحْذَرُ الْمُنٰفِقُوْنَ اَنْ تُنَزَّلَ عَلَيْهِمْ
سُوْرَةٌ تُنَبِّئُهُمْ بِمَا فِيْ قُلُوْبِهِمْ ؕ قُلِ اسْتَهْزِءُوْا ۚ اِنَّ اللّٰهَ مُخْرِجٌ مَّا تَحْذَرُوْنَ ﴿٦٤﴾ وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ
لَيَقُوْلُنَّ اِنَّمَا كُنَّا نَخُوْضُ وَنَلْعَبُ ؕ قُلْ اَبِاللّٰهِ وَاٰيٰتِهٖ وَرَسُوْلِهٖ كُنْتُمْ تَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿٦٥﴾ لَا تَعْتَذِرُوْا

حقدار دی چه رضا کړی دوی هغوی لره که وی دوی مؤمنان (٦٢) آیانه پوهیږی دوی چه یقیناً چاچه خلاف اوکړو ﷲ تعالیٰ او ډرسول دحدونونه پس یقیناً دهٔ لره اُور ډجهنم دے همیشه به وی دے په هغے کښ داشرمندګی لویه ده (٦٣) یریږی منافقان چه نازل به شی په مسلمانانو یو سورة چه خبربه کړی دوی لره په هغه څه سره چه په زړونو ډمنافقانو کښ دی ته اووایه چه ټوقے کوئ تاسو یقیناً ﷲ تعالیٰ ښکاره کوی هغه څیز چه یریږئے ستاسو ډهغے ډښکاره کیدلونه (٦٤) اوکه ته دوی نه تپوس اوکړے(چه تاسو څه وئیل) خامخا دوی وائی یقیناً مونږ ځان مشغولؤواولوبے موکولے ته اووایه آیاپه ﷲ تعالیٰ پورے اوپه آیتونو ډهغه پورے اوپه رسول ډهغه پورے تاسو ټوقے کوئ (٦٥) بهانے مهٔ کوئ

[٦٢] دے ایت کښ هم زورنه ده منافقینوته اودَ هغوی یوصفت قبیحه ذکر دے یعنی دَ مخلوق دَ رضا کولوکوشش کوی په دروغه قسمونو باندے اوﷲ تعالیٰ او رسول ﷺ خفه کوی ﴿اَنْ يُّرْضُوْهُ﴾ یوضمیرئیے ذکرکړو ځکه رضا دَ ﷲ اودَ رسول یوشان ده اودا ضمیر راجع دے ﷲ ته په نیزدَ بیضاوی او راجع دے رسول ته په نیز دَ سیبویه۔

[٦٣] په دے ایت کښ یره اُخروی ده او یوصفت قبیحه دے دَ هغوی ﴿يُحَادِدِ﴾ مطلب دا دے چه دَ ﷲ تعالیٰ اودَ رسول ﷺ دَ حدودونه مخالف دَ ځان نه حدود جوړوی اوحدود دوه قسمه دی یوقسم شرعی سزاګانے دپاره دَ بعضِ ګناهونولکه حد دَ زنا اوغلا وغیره۔ دویم قسم دَ هرحکم شرعی سنت طریقه دَ هغے حد دے دَ دے وجے نه هر مبتدع محاد دَ ﷲ تعالیٰ اودَ رسول ﷺ دے او داسے په سورة مجادله(٥) او(٢٠) کښ هم ذکر دی۔

[٦٤] دے ایت کښ هم زورنه ده منافقینوته اودَ هغوی یوصفت قبیحه ذکر دے مطلب دَ ایت دا دے چه دوی به ټوقے کولے په پیغمبراوپه قرآن پورے اوبیابه یریدل دَ دے خبرے نه هسے نه چه ﷲ تعالیٰ زمونږ دَ بدوپه باره کښ سورة نازل کړی اومؤمنان زمونږدَ حال نه خبرکړی لیکن دا سورة ﷲ تعالیٰ دَ هغوی دَ عیبونوپه باره کښ نازل کړے دے دَ دے وجے نه دے سورة ته سورة الفاضحه هم وائي (شرموونکی) ﴿قُلِ اسْتَهْزِءُوْا﴾ دا دلیل دے چه استهزاء ئیے کوله په ﷲ تعالیٰ او رسول اومؤمنانو پورے اودا امردپاره دَ تهدید (زورنے) دے۔

[٦٥] دے ایت کښ دَ هغوی دوه صفات قبیحه ذکردی ﴿نَخُوْضُ وَنَلْعَبُ﴾ دا عذرَ استهزاء کولو دے اودا مصداق دے دَ هغه متل مشهورچه عذرګناه بدتر ازګناه ځکه چه خوض اولعب په ﷲ او رسول او ایاتونوپورے غټ ګناه دے اوخصاص اورازی لیکلی دی چه کلمه دَکفرپه ټوله سره وئیل هم کفردے۔ نخوض، خوض په ناجائز خبرو کښ مشغولیدل دپاره دَګپ شپ۔ نَلْعَبُ، یوناجائزقول یا عمل کول دپاره دَ

قَدْ كَفَرْتُمْ بَعْدَ اِيْمَانِكُمْ ؕ اِنْ نَّعْفُ عَنْ طَآىِٕفَةٍ مِّنْكُمْ نُعَذِّبْ طَآىِٕفَةًۢ بِاَنَّهُمْ كَانُوْا
مُجْرِمِيْنَ ﴿٦٦﴾ اَلْمُنٰفِقُوْنَ وَالْمُنٰفِقٰتُ بَعْضُهُمْ مِّنْۢ بَعْضٍ ۘ يَاْمُرُوْنَ بِالْمُنْكَرِ وَيَنْهَوْنَ
عَنِ الْمَعْرُوْفِ وَيَقْبِضُوْنَ اَيْدِيَهُمْ ؕ نَسُوا اللّٰهَ فَنَسِيَهُمْ ؕ اِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿٦٧﴾ وَعَدَ
اللّٰهُ الْمُنٰفِقِيْنَ وَالْمُنٰفِقٰتِ وَالْكُفَّارَ نَارَ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ هِيَ حَسْبُهُمْ ۚ وَلَعَنَهُمُ
اللّٰهُ ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ مُّقِيْمٌ ﴿٦٨﴾ كَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ كَانُوْٓا اَشَدَّ مِنْكُمْ قُوَّةً وَّاَكْثَرَ اَمْوَالًا

یقیناً کفر ښکاره کړے دے تاسو پس دَ ایمان ښکاره کولونه که معافی اوکړو مونږ دَ یوے ډلے ستاسونه (په توفیق دَ توبے) نوعذاب به ورکړو بلے ډلے ته په دے وجه چه دوی مجرمان دی (٦٦) منافقان سړی اومنافقے ښځے بعضے دَ دوی دَ بعضونه دی حکم کوی په نارواؤ اومنع کوی دَنیکئ نه اوبندساتی لاسونه خپل هیرکړے دے دوی اللّٰه تعالیٰ لره نو اللّٰه هم پریخودل دوی لره (په محرومولوسره دَ خیرنه) یقیناً منافقان خاص دوی لوئے نافرمان دی (٦٧) وعده کړے ده اللّٰه تعالیٰ دَمنافقو سړو اودَمنافقو ښځوسره او دَکافرانو سره دَاُور دَجهنم همیشه به وی دوی په هغے کښ هغه پوره سزا دَ دوی ده اولعنت کړے دے په دوی باندے اللّٰه تعالیٰ او دوی دپاره عذاب همیشه دے (٦٨) تاسویئ پشان دَهغے کسانو چه مخکښ وو ستاسونه ووهغوی زیات ستاسونه په طاقت کښ او ډیروو په مالونو

وخت تیرولو اګرچه هغه ئے مقصد نه وی ﴿تَسْتَهْزِءُوْنَ﴾ دا دلیل دے چه خوض اولعب مرادف دی دَ استهزاء سره اواستهزاء باللّٰه عام ده دَ هغه په نومونواوصفتونو اوحکمونو پورے استهزاء کول۔

[٦٦] دے ایت کښ هم زورنه ده منافقانوته اودَ هغوی دوه صفات قبیحه ذکر دی او دا ایت دلیل دے په دے خبره چه خوك په اللّٰه تعالیٰ پورے یارسول اللّٰه ﷺ اوقرآن پورے توقے کوی اوهغه سپك ګڼړی نوهغه کافردے اومرتد دے ﴿اِنْ نَّعْفُ﴾ مراد دا دے چه اللّٰه تعالیٰ بعضِ منافقینو ته توفیق دَ توبے ورکړو اوهغوی ئے معاف کړل۔ په دے کښ اشاره ده چه توبه دَ مرتد هم قبلیږی ﴿مُجْرِمِيْنَ﴾ هغه کسان چه په ګناه باندے پاښه وی توبه نه اوباسی۔

[٦٧] په دے ایت کښ زورنه ده منافقانوته اودَ هغوی ځلورصفات قبیحه ئے ذکرکړیدی ﴿بَعْضُهُمْ مِّنْۢ بَعْضٍ﴾ معنیٰ دا ده چه دوی دَ یوبل په شان دی په وتلوکښ دَ دین نه اودارنګ په دے صفاتو ذکر شوو کښ او اشاره ده دے ته چه په دے حکم کښ نارینه اوزنانه برابردی۔ لفظ دَ مِن استعمالیږی په تشبیه او اشتراك عمل کښ ﴿وَيَقْبِضُوْنَ اَيْدِيَهُمْ﴾ مراد دَ دے نه پریښودل دَ جهاد اودَ انفاق فی سبیل اللّٰه اودَ نورو واجباتو دی ﴿نَسُوا اللّٰهَ﴾ مراد دَ دے قصداً پریښودل دی خوداسے پریښودل چه اوګرځی په شان دَ هیر شوی مطلب دا دے چه دوی پریښودلے دے ذکر اوطاعت دَ اللّٰه تعالیٰ لره۔

[٦٨] دے ایت کښ یره اُخروی ده منافقینوته په پنځه طریقوسره ﴿وَعَدَ﴾ دَ دے اکثر استعمال په خیرکښ وی اودَ اوعد استعمال په شرکښ وی لیکن هرکله چه دَ وعد سره نارجهنم ذکر شو نو مراد دَ دے نه وعید دے۔

وَّاَوْلَادًا ؕ فَاسْتَمْتَعُوْا بِخَلَاقِهِمْ فَاسْتَمْتَعْتُمْ بِخَلَاقِكُمْ كَمَا اسْتَمْتَعَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ
بِخَلَاقِهِمْ وَخُضْتُمْ كَالَّذِيْ خَاضُوْا ؕ اُولٰٓئِكَ حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ۚ وَاُولٰٓئِكَ
هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿٦٩﴾ اَلَمْ يَاْتِهِمْ نَبَاُ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ قَوْمِ نُوْحٍ وَّعَادٍ وَّثَمُوْدَ ۙ وَقَوْمِ اِبْرٰهِيْمَ
وَاَصْحٰبِ مَدْيَنَ وَالْمُؤْتَفِكٰتِ ؕ اَتَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ ۚ فَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَلٰكِنْ كَانُوْٓا
اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿٧٠﴾ وَالْمُؤْمِنُوْنَ وَالْمُؤْمِنٰتُ بَعْضُهُمْ اَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ۘ يَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ

اوپه اولادکښ پس فائده واخسته هغوی په برخه خپله پس تاسوهم فائده واخسته په برخه خپله لکه چه فائده اخستې وه هغه کسانو چه مخکښ ستاسونه وو په برخه خپله اومشغوله شوئ پشان دَهغے کسانو چه هغوی مشغوله شوی وو دغه کسان برباد شویدی عملونه دَهغوی په دُنیا اوپه آخرت کښ او دغه کسان هم دوی تاوان والادی (٦٩) آیانه دے راغلے دوی ته خبر دَهغے کسانو چه مخکښ دَ دوی وو قوم دَنوح(علیه السلام) او عادیان اوثمودیان او قوم دَ ابراهیم(علیه السلام) او اوسیدونکی دَمدین او اوسیدونکې دَ الټه شوو کلو(دَقوم لوط علیه السلام) راغلی دی دویته رسولان دَ دوی په ښکاره حکمونو سره پس نه وو الله تعالیٰ چه ظلم ئے کړے وے په دوی باندے لیکن وودوی په خپلو ځانونو ظلم کوونکی(٧٠) اومؤمنان سړی اومؤمنانے ښځے بعضے دَ دوی دوستان دَبعضے دی حکم کوی په نیکئ سره

[٦٩] په دے ایت کښ تشبیه دَ دے منافقانواو کافرانوده دَ مخکنو کافرانوسره په هغه صفاتوقبیحوچه تیرشوی دی اوپه صفت دَ استمتاع اوخوض کښ نودا دوه نور قبیح اوصاف جامعه دی په سزا کښ ﴿فَاسْتَمْتَعُوْا بِخَلَاقِهِمْ﴾ په دے کښ اشاره ده صفت دَ فاسقانو اوفاجرانو ته چه هغوی دَ دُنیا ځیزونه دَ خپل خواهش مطابق استعمالول ﴿وَخُضْتُمْ﴾ په دے کښ اشاره ده مرض دَ مبتدعینواودَ مکذبینودَ حق ته چه هغوی دَ ځان نه دین ایجادکړے وی دَ خپل خواهشاتومطابق﴿كَالَّذِيْنَ﴾ دَ دے نه مخکښ لفظ (اَنْتُمْ) پټ دے ﴿قُوَّةً﴾ طاقت دَ بدنونویازوردَ ظلم اودَ نیولودَ مظلومانومراد دے ﴿فَاسْتَمْتَعُوْا بِخَلَاقِهِمْ﴾ دَ خلاق نه مراد دَ دُنیا مالونه اومرتبے دی چه دا تقدیری برخه ده دَ طرف دَ الله تعالیٰ نه اودا لفظ ئے ځکه ذکرکړوچه دلالت اوکړی په قباحت دَ تیرشوی خلقو بیا روستوجمله کښ دَ هغوی دَ عمل سره تشبیه ورکړے شوه ﴿فِي الدُّنْيَا﴾ حبط په دُنیاکښ دا دے چه نتیجه دَ خیرپه هغے کښ نه حاصلیږی دارنګ په دنیا کښ دَ هغوی مدح په عباداتودَ هغوی سره نه کیږی چه دا متقی دے مونځ ګذار دے یا حاجی دے۔ ﴿وَالْاٰخِرَةِ﴾ اوپه اخرت کښ په دغه عملونوسره ثواب نه حاصلیږی۔

[٧٠] دا ایت تفسیردے دَ مخکښ ایت دپاره چه په هغے کښ فرمائیلی وؤ ﴿كَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ﴾ یعنی ذکر دَ مخکنو قومونو مکذبینودے سرهٔ دَ اشارے کولونه دَ هغوی دنیوی عذابونوته چه په نورو سورتونو مکیو کښ ذکردی دا قومونه په سورة حج (٤٢، ٤٣، ٤٤) کښ اوپه سورة ص(١٢، ١٣) کښ ذکر دی ﴿اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ﴾ مراد دَ ظلم نه تکذیب اوکفرکول دی چه هغه سبب دَ عذاب دَ دوی اوګرځیدلو۔

وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَيُطِيْعُوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ؕ اُولٰٓئِكَ
سَيَرْحَمُهُمُ اللّٰهُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿٧١﴾ وَعَدَ اللّٰهُ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ جَنّٰتٍ
تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا وَمَسٰكِنَ طَيِّبَةً فِيْ جَنّٰتِ عَدْنٍ ؕ وَرِضْوَانٌ
مِّنَ اللّٰهِ اَكْبَرُ ؕ ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿٧٢﴾ يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ جَاهِدِ الْكُفَّارَ وَالْمُنٰفِقِيْنَ
وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ ؕ وَمَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ؕ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴿٧٣﴾ يَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ مَا قَالُوْا ؕ وَلَقَدْ قَالُوْا

اومنع کوی دَبدئ نه اوپابندی کوی دَمانځه او ورکوی زکوٰة لره او تابعداری کوی دَ الله تعالی او دَرسول(ﷺ) دَهغه دغه کسان خامخا رحم کوی په دوی باندے الله تعالی یقیناً الله تعالی زور ور دے حکمتونو والا دے (۷۱) وعده کړیده الله تعالی دَمؤمنانو سړو او دَمؤمنانو ښځو سره دَجنتونو چه بهیږی دَهغے لاندے ولے همیشه به وی دوی په هغے کښ او په ځایونو مزیدارو په جنتونو دَ همیشوالی کښ او رضا مندی دَ الله تعالی ډیر لوئے نعمت دے داکامیابی لویه ده(۷۲) اے نبی(ﷺ) جهاد کوه دَکافرانو سره او منافقانو سره اوسخت شه په مقابله دَهغوی کښ اوځائے دَ دوی جهنم دے اوبد دے ځائے دَورتلو (داجهنم) (۷۳) قسمونه کوی دوی په الله تعالی سره چه څه نه دی وئیلی دوی ستا په باره کښ اویقیناً وئیلے ده دوی

[۷۱] دے ایت کښ صفات دَ مؤمنانودی په مقابله دَ منافقانو کښ۔ فائده: دَ دوی په باره کښ اولیاءُ لفظ دے او دَ منافقینوپه باره کښ بَعضُهُمْ مِّنْ بَعضٍ لفظ وؤ دیکښ نکته دا ده چه دَمؤمنانو زړونه یودی په محبت کولوکښ دَ یوبل سره اوپه شفقت کولوکښ په یو بل باندے اوهرچه منافقان دی دَ هغوی په زړونوکښ دَ یوبل سره اختلاف دے لیکن په حکم کښ دَ یوبل سره پیوست دی ﴿بِالْمَعْرُوْفِ﴾ شریعنی وئیلی دی چه هرخیر اوطاعت چه شرعی وی نو اول په هغے کښ ایمان او توحید اوسنت داخل دی۔ ﴿الْمُنْكَرِ﴾ هرهغه څیز چه په شرع کښ دَ هغے قباحت معلوم وی اول په هغے کښ شرك اوبدعت داخل دی ﴿وَيُطِيْعُوْنَ﴾ دا په مقابله دَ نَسُوا الله (په صفت دَ منافقانو) کښ دے۔

[۷۲] دے ایت کښ زیرے اخروی دے مؤمنانوته په مقابله دَ عذاب دَ منافقانو کښ ﴿وَمَسٰكِنَ طَيِّبَةً﴾ یعنی بنګلے به وی جوړے کړے شوے دَ ملغلرو اودَ یاقوت وغیره نه اوخوشبویه به وی اوپه مزل دَ پنځو سوو (۵۰۰) کالوکښ دَ هغے خوشبوئي به خوریږی اومشتمل به وی په بے شماره نعمتونوسره۔

[۷۳] په دے ایت کښ خطاب دے پیغمبر ته او داخل دی په دے خطاب کښ مؤمنان هرکله چه مخکښ ایاتونوکښ مقابله ذکرشوه په صفاتواوحالاتوکښ دَکافرانو اودَ منافقینوسره نواوس په دے ایت کښ اعلان دَ جهاد دے دَ ټولوکافرانوسره اوجهاد دَکافرانو سره په تورے سره اوپه ژبے سره دے اوجهاد دَ منافقانوسره که هجرت ئے نه وی کړے نوهم په تورے سره دے اوکه په داراسلام کښ وی نوپه ژبے سره دے ﴿وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ﴾ غلظت مقابل دَ شفقت دے وئیلے کیږی سختوالی دَ زړه ته په معامله کښ مراد دا دے چه دَ دے دواړو ډلوسره هیڅ شفقت اونرمی مه کوئے اودَ دوی په مقابله کښ کلك شئی دَځُلے کنځل

كَلِمَةَ الْكُفْرِ وَكَفَرُوْا بَعْدَ اِسْلَامِهِمْ وَهَمُّوْا بِمَا لَمْ يَنَالُوْا ۚ وَمَا نَقَمُوْٓا اِلَّآ اَنْ اَغْنٰىهُمُ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ مِنْ فَضْلِهٖ ۚ فَاِنْ يَّتُوْبُوْا يَكُ خَيْرًا لَّهُمْ ۚ وَاِنْ يَّتَوَلَّوْا يُعَذِّبْهُمُ اللّٰهُ عَذَابًا اَلِيْمًا ۙ فِى الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ۚ وَمَا لَهُمْ فِى الْاَرْضِ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ ﴿٧٤﴾ وَمِنْهُمْ مَّنْ عٰهَدَ اللّٰهَ لَئِنْ اٰتٰىنَا مِنْ فَضْلِهٖ لَنَصَّدَّقَنَّ وَلَنَكُوْنَنَّ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿٧٥﴾ فَلَمَّآ

خبره دَکفر او کفرئے بنکاره کړیدے پس دَ اسلام بنکاره کولو دَ دوینه او قصد ئے کړیدے دَهغے کارچه حاصل ئے نه کړو اوبدنه ګنړی دوی مګر داخبره چه مالدار کړل دوی لره الله تعالیٰ اورسول دَهغه (په تقسیم کولو سره) دَفضل دَ الله نه پس که دوی توبه ویستله نووی به غوره دپاره دَ دوی او که دوی مخ اوګرځونو عذاب به ورکړی دوی لره الله تعالیٰ عذاب درد ناك په دُنیا او آخرت کښ اونه به وی دوی لره په ټوله زمکه کښ څوك دوست اونه مددګار(٧٤) او بعضے دَ دوینه هغه څوك دی چه لوظ ئے کړیدے الله تعالیٰ سره که رائے کړو مونږته دَفضل خپل نه نوخامخا مونږ به صدقے کوو او خامخا شوبه دَنیك عمل کوونکونه (٧٥)پس هرکله

کول دَ دے نه نه دی مراد۔

[٧٤] په دے ایت کښ زورنه ده منافقانوته دَ هغوی په دریو صفاتوقبیحو سره هرکله چه مخکښ ایت کښ منافقان ئے شریك کړل په حکم دَکافرانوکښ نوهغوی انکار اوکړودَکفرکولونه په قسم کولو سره نو پدے ایت کښ دَ هغے جواب دے ﴿كَلِمَةَ الْكُفْرِ﴾ نه مراد کنځل کول دی پیغمبرته اوطعن کول دی په اسلام باندے﴿وَهَمُّوْا بِمَا لَمْ يَنَالُوْا﴾ مراد دَ دے نه واقعه دَ هغه دولس(١٢) منافقانوده په غزوه تبوك کښ چه اراده ئے کړے وه دَ قتل دَ پیغمبر لیکن هغه اراده کښ کامیاب نه شول ځکه چه الله تعالیٰ نبی لره خبر ورکړو﴿وَمَا نَقَمُوْا﴾ مراد دَ دے دا دے چه منافق سړے دَ احسان کوونکی سره بدکوی په دے ایت کښ نسبت دَ مالدارکولوالله تعالیٰ ته په طریقه دَ ورکولوسره دے اونسبت دَ هغے رسول الله ﷺ ته په طریقه دَ تقسیم سره دے یعنی رسول الله ﷺ به دوی ته په مال فئی اوغنیمت او زکوٰة کښ مالونه ورکول تردے چه دوی مالدار شول ځکه حدیث شریف کښ راغلی دی اِنما اَنَا قاسم والله یُعطِی۔ یقیناً ځه تقسیم کوونکے یم اوالله تعالیٰ ورکوی۔

[٧٥] پدے ایت کښ اشاره ده بل قسم منافقینوته اودَ هغوی قبیحه صفاتوته چه نذر اوکړی دَ الله تعالیٰ په نوم اوهغه نه پوره کوی او وعده اوکړی دَ الله تعالیٰ سره اودَ هغے هم خلاف کوی۔ فائده: ډیرومفسرینوپه سبب دَ نزول دَ دے ایت کښ ثعلبه بن حاطب انصاری لیکلے دے لیکن هغه صحیح نه دے ځکه چه هغه بدری صحابی وؤهغه منافق نشی کیدلے په دغه قصه باندے ډیرواهل علمو ردکړے دے بیهقی په دلائل النبوة کښ دیته ضعیف وئیلی دی دارنګ ابن عبدالبراوابن الاثیر۔

اٰتٰىهُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ بَخِلُوْا بِهٖ وَتَوَلَّوْا وَّهُمْ مُّعْرِضُوْنَ ﴿٧٦﴾ فَاَعْقَبَهُمْ نِفَاقًا فِيْ قُلُوْبِهِمْ اِلٰى
يَوْمِ يَلْقَوْنَهٗ بِمَآ اَخْلَفُوا اللّٰهَ مَا وَعَدُوْهُ وَبِمَا كَانُوْا يَكْذِبُوْنَ ﴿٧٧﴾ اَلَمْ يَعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ
يَعْلَمُ سِرَّهُمْ وَنَجْوٰىهُمْ وَاَنَّ اللّٰهَ عَلَّامُ الْغُيُوْبِ ﴿٧٨﴾ اَلَّذِيْنَ يَلْمِزُوْنَ الْمُطَّوِّعِيْنَ مِنَ
الْمُؤْمِنِيْنَ فِي الصَّدَقٰتِ وَالَّذِيْنَ لَا يَجِدُوْنَ اِلَّا جُهْدَهُمْ فَيَسْخَرُوْنَ مِنْهُمْ ۙ سَخِرَ اللّٰهُ
مِنْهُمْ ۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٧٩﴾ اِسْتَغْفِرْ لَهُمْ اَوْ لَا تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ ۭ اِنْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ سَبْعِيْنَ مَرَّةً

چه ورکړو الله تعالی دوی ته دَفضل خپل نه (څه مال) نوبخل اوکړودوی په هغے سره او اوګرځیدل (دَ لوظ خپل نه) او دوی مخ اړوونکی دی (٧٦) پس پیدا کړو الله تعالی منافقت په زړونو دَ دوی کښ ترهغے ورځے پورے چه مخامخ به شی دوی دَهغه سره په سبب دَ دے چه خلاف کړیدے دوی دَ الله نه دَ هغے وعدے چه کړے ده دَهغه سره اوپه دے وجه چه دوی دروغ وئیل (٧٧) آیادوی نه پوهیږی چه یقیناً الله تعالی پوهیږی په پټوخبرو دَ دوی اوپه جرګو دَ دوی اویقیناً الله تعالی ښهٔ پوهیدونکے دے په ټولو عیبونو باندے (٧٨) (دامنافقان) هغه کسان دی چه عیب لګوی په رغبت کوونکو دَمؤمنانونه په صدقو ورکولو کښ اوهغه کسان چه نه مومی هغوی مګر مزدوری خپله پس دوی مسخرے کوی په هغے پورے الله تعالی به سزا دَمسخرو ورکړی دوی لره او دوی لره عذاب درد ناك دے (٧٩) که بخنه غواړے ته دوی لره او که نه غواړے بخنه دوی لره (یوشان ده)، که ته بخنه اوغواړے دوی لره اویاځله

[٧٦] پدے ایت کښ دوه صفات قبیحه دَ منافقانوذکردی اودا ایت دلیل دے په دے باندے چه څوك دَ نذرصحیح وفانه کوی نوهغه ګنهګار دے۔

[٧٧] دا ایت هم متعلق دے دَ تیرشوی ایت سره اوپه دے کښ یوصفت قبیحه دَ هغوی ذکر دے ﴿يَوْمِ يَلْقَوْنَهٗ﴾ مراد دَ دے نه ورځ دَ مرګ ده ﴿فَاَعْقَبَهُمْ﴾ ضمیرفاعل راجع دے الله تعالی ته یاراجع دے بخل ته۔ اویَلقَوْنَهٗ ضمیر هم راجع دے الله تعالی ته یا بخل ته په تقدیردَ جزاء دَ بخل سره۔

[٧٨] دا هم زورنه ده منافقینوته اومطلب دا دے چه الله تعالی دَ دے منافقانو په ټولو عملونو باندے عالم دے نو دوی ته به سزا ورکوی۔ او ایت بنکاره دلیل دے په دے خبره چه علم دَ غیب خاص صفت دَ الله تعالی دے ﴿سِرَّهُمْ﴾ هغه خبرے چه په زړه کښ وی او(نَجوٰهُمْ) پټے جرګے کول۔

[٧٩] دے ایت کښ هم زورنه ده منافقینو ته او دَ هغوی دوه صفات قبیحه ذکر دی مراد دا دے که څوك دَ الله تعالی په لار کښ ډیرخرچ کوی دَ مالدارئے دَ وجے نه نومنافقان په هغه باندے عیب لګوی چه دریاکاردے اوکه څوك لږخرچ کوی دَغریبئ دَ وجے نه نو منافقان هغه پورے مسخرے کوی۔

فائده: دا ایت دلیل دے په دے خبره چه څوك په صحابه کراموطعن کوی نوهغه منافقان دی لکه شیعه او روافض۔

فَلَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لَهُمْ ؕ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ كَفَرُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ؕ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ﴿۸۰﴾
فَرِحَ الْمُخَلَّفُوْنَ بِمَقْعَدِهِمْ خِلٰفَ رَسُوْلِ اللّٰهِ وَكَرِهُوْٓا اَنْ يُّجَاهِدُوْا بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ
فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَقَالُوْا لَا تَنْفِرُوْا فِي الْحَرِّ ؕ قُلْ نَارُ جَهَنَّمَ اَشَدُّ حَرًّا ؕ لَوْ كَانُوْا يَفْقَهُوْنَ ﴿۸۱﴾
فَلْيَضْحَكُوْا قَلِيْلًا وَّلْيَبْكُوْا كَثِيْرًا ۚ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿۸۲﴾ فَاِنْ رَّجَعَكَ اللّٰهُ اِلٰى طَآئِفَةٍ

نو هیڅرے بخنه نه کوی الله دویته دایه دے وجه چه دوی کفر کړے دے په الله تعالی اوپه رسول(ﷺ) دَهغه او الله تعالی توفیق دَهدایت نه ورکوی قوم نافرمانو ته(۸۰) خوشحاله دی دا پاتے کړے شوی (دَجهاد نه) په کینا ستو خپلو باندے خلاف دَرسول الله(ﷺ) نه اوبدګنړی دوی چه جهاد اوکړی په مالونوخپلو سره اوپه نفسونو خپلو سره په لار دَ الله تعالی کښ او وائی دوی نورو خلقو ته مه اوځئ په ګرمئی کښ(دَ جهاد دپاره) ته اُوایه اُور دَجهنم ډیر سخت ګرم دے که دوی پوهیدے (نو داسے به ئے نه کولے)(۸۱) پس او دِ خاندی دوی لږه زمانه او دِ ژاړی ډیره زمانه بدله ورکیدے شی په سبب دَهغے عملونو چه دوی ئیے کوی (۸۲) پس که واپس راوستے ته الله تعالی یوے ډلے ته

[۸۰] په دے ایت کښ خطاب دے پیغمبر اومؤمنانوته اویره ده منافقینولره چه هغوی دپاره استغفارنه قبلیږی۔ ابتداء دَ دے ایت کښ اختلاف دے بعضوعلماؤ وئیلی دی چه مقصد په دَ دے کښ نا امیده کول دی دَ مغفرت دَ هغے نه نواستغفاردَ هغے دپاره بے فائدے شواودَ بعضو علماؤپه نیز دا اختیار ورکول دی حدیث دَ بخاری دلیل دے چه دا اختیار وؤ نبیﷺ ته لیکن بیا منسوخ شویدے په ایت (۸٤) او(۱۱۳) باندے۔ ﴿سَبْعِيْنَ﴾ مراد په دے سره صرف اویا(۷۰) نه دی بلکه بنا په عدد دَ عربودا لفظ استعمالیږی دَ ډیروالی دپاره، عدد دَ سبع داسے عدد دے چه مشتمل دے په ټولوصفتونودَ عدد باندے۔ نودَ دے وجے نه عرب دَ ډیروالی دپاره سبع ذکرکوی اوکله دَ تاکید دپاره سبعین ذکرکوی اودَ زیات تاکید دپاره سبعمائة ذکرکوی۔

[۸۱] دے ایت کښ هم زورنه ده منافقینوته اوځلور صفات قبیحه دَ هغوی دی دَ اول صفت مطلب دا دے چه کیناستل دَ جهادنه یوګناه دے اومخالفت دَ رسول اللهﷺ نه دویم ګناه دے اوخوشحالی په هغے باندے دریم ګناه دے اودا مرض دَ مبتدعینو هم دے چه په هغه عمل چه خلاف دَ رسول وی خوشحالی کوی ﴿الْمُخَلَّفُوْنَ﴾ دوی اګر چه پخپله پاتے شوی وؤدَ جهاد نه لیکن دا په حقیقت کښ قهر اوغضب دے دَ الله تعالی په دوی باندے یعنی الله تعالی پاتے کړل دوی لره لکه په(٤٦)کښ تیرشول ﴿خِلٰفَ﴾ په معنیٰ دَ مخالفت سره دے او دا مفعول له دے یا په معنیٰ دَ خلف سره دے ﴿يَفْقَهُوْنَ﴾ یعنی علم دَ فرق دَ دُنیا اودَ اخرت اودَ مشقتونو اودَ نعمتونودَ دواړو او دا حقیقی علم دے دَ دے وجے نه دیته فقاهت اوئیلے شو۔

[۸۲] دا هم زورنه ده منافقانو ته اوپه دے سره امرمراد نه دے بلکه خبراو زورنه مراد ده اودارنګ ﴿وَلْيَبْكُوْا﴾ په امرسره خبر مراد دے اودَ ﴿قَلِيْلًا﴾ نه مراد دنیا ده اودَ ﴿كَثِيْرًا﴾ نه مراد جهنم دے اودَ ضحك اوبكاء نه مراد معنیٰ حقیقی ده اواحتمال دے چه مراد وی دَ دے نه خوشحالی اوغمونه۔

فائده: خنداکول بغیرد قهقهے نه دَ نبی اودَ صحابه کرامونه ثابت ده لیکن ډیروالے دَ هغے عمل دَ بے وقوفانودے۔

مِّنْهُمْ فَاسْتَاْذَنُوْكَ لِلْخُرُوْجِ فَقُلْ لَّنْ تَخْرُجُوْا مَعِيَ اَبَدًا وَّلَنْ تُقَاتِلُوْا مَعِيَ عَدُوًّا ۭ اِنَّكُمْ
رَضِيْتُمْ بِالْقُعُوْدِ اَوَّلَ مَرَّةٍ فَاقْعُدُوْا مَعَ الْخٰلِفِيْنَ ۝٨٣ وَلَا تُصَلِّ عَلٰٓى اَحَدٍ مِّنْهُمْ مَّاتَ اَبَدًا
وَّلَا تَقُمْ عَلٰي قَبْرِهٖ ۭ اِنَّهُمْ كَفَرُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَمَاتُوْا وَهُمْ فٰسِقُوْنَ ۝٨٤ وَلَا تُعْجِبْكَ اَمْوَالُهُمْ
وَاَوْلَادُهُمْ ۭ اِنَّمَا يُرِيْدُ اللّٰهُ اَنْ يُّعَذِّبَهُمْ بِهَا فِي الدُّنْيَا وَتَزْهَقَ اَنْفُسُهُمْ وَهُمْ كٰفِرُوْنَ ۝٨٥

دَ دوی نه پس اجازت غواړی ستانه دپاره دَوتلو (دَجهاد دپاره) پس ورته اُوایه هرګزمه اوځئ ځما سره چرے اوهیڅ کله جهاد مه کوئ ځما ملګرتیا کښ دَ دُشمن سره یقیناً رضاشوی یئ تاسو په کیناستلو اول ځل پس کینئ دَ پاتے کیدونکو سره (٨٣) او مونځ (جنازه) مه کوه په هیڅ چا دَ دوی نه چه مړشی هیڅرے اومه او دریږه دَهغه دَقبر په خواکښ یقیناً دوی کفر کړے دے په اللّٰه تعالیٰ اوپه رسول دَهغه او مړه شوی دی په داسے حال چه دوی نافرمان وو (٨٤) اوتعجب کښ دِ نه اچوی تالره مالونه دَ دوی او اولاد دَ دوی یقیناً غواړی اللّٰه تعالیٰ چه عذاب ورکړی دوی لره په هغے سره په دُنیا کښ او اوځی روحونه دَ دوی په داسے حال چه دوی کافروی (٨٥)

[٨٣] دے ایت کښ هم زورنه ده منافقانوته اوپه دے کښ منع کول دَ دوی دی په ائنده زمانه کښ دَ وتلودَ جهاد دپاره اوهر کله چه دا ایتونه په سفردَ تبوك کښ نازل شوی وؤ نوځکه ئے اوفرمائیل چه ﴿فَاِنْ رَّجَعَكَ اللّٰهُ﴾ او ﴿الْخٰلِفِيْنَ﴾ زنانه او واړه او کمزوری سړی په دے کښ داخل دی او خالفین فاسدینوته هم وائي او فاسدین په معنیٰ دَ کنده باندے دے اوفراء وئیلی دی چه خالفین مخالفت کوونکوته هم وئیلے شی۔

فائده: په دے ایت کښ دلیل دے په دے خبره چه خلاف کوونکی وی دَ پیغمبر نه نودَ هغوی سره ملګرتیا منع ده دارنګ رازی په تفسیرکبیرکښ ذکرکړی دی ﴿اِلٰى طَاۗىِٕفَةٍ﴾ طائفه ئے ځکه اُوئیل چه په دوی کښ بعضو ایمان راوړو اوبعضِ دَ نبی ﷺ دَ واپس راتللو نه مخکښ مړه شول۔ یا طائفه نه مراد منافقین دی ځکه چه پاتے شوی بعض مؤمنان وؤ۔

[٨٤] دا عطف دے په مخکښ ایت کښ فقل باندے په مضمون کښ اودَ فَاسْتَاْذَنُوْكَ دَلاندے داخل نه دے په دے ایت کښ هم زورنه ده منافقینوته اویره ورکول دی چه دَ منافقت دَ وجے نه په دوی باندے جنازه اوپس دَ مرګه دوی ته دُعا کول منع دی ﴿وَلَا تَقُمْ عَلٰى قَبْرِهٖ﴾ مطلب دا دے چه دَ رسول اللّٰه ﷺ عادت وؤچه کله به مړے دفن کړے شو اوقبرته تیار شونودَ هغه دَ قبرپه خواکښ به اودریدلو اودُعا به ئے کوله اودارنګ چه کله زیارت دَ یو قبرته ئے کوؤ نوهم به ئے په اولاړے دُعاکوله لیکن دَ منافقانودپاره دَ دے طریقے نه رسول اللّٰه ﷺ منع کړے شو۔ دا دلیل دے چه دَ قبرپه خوا کښ دُعا کول په ولاړه سره سنت ده ﴿عَلٰى قَبْرِهٖ﴾ علی په معنیٰ دَ عند سره دے ځکه دَ قبردپاسه اودریدل جائزنه دی ﴿اِنَّهُمْ كَفَرُوْا﴾ دا علت دے دَ منع دَ صلوة اوقیام دَ قبرسره دپاره دَ دُعا ﴿فٰسِقُوْنَ﴾ چه کفر اوګناهونه ښکاره کوی۔

[٨٥] دا جواب دَ یووهم دے که څوك دا وهم اوکړی چه دَ دوی دَ مالدارئے دَ وجے یا دَ دوی دَ ځامنودَ وجے نه جنازه کول په دوی باندے به جائز وی؟ نوپدے ایت کښ دَ هغے جواب اوشو۔ دابل حکم دَ منافقانودے عطف دے په لَاتُصَلِّ باندے۔ سوال: دا ایت مخکښ(٥٥) کښ تیرشویدے نودَ مکرر راوړلوځه

وَاِذَآ اُنْزِلَتْ سُوْرَةٌ اَنْ اٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَجَاهِدُوْا مَعَ رَسُوْلِهِ اسْتَاْذَنَكَ اُولُوا الطَّوْلِ مِنْهُمْ وَقَالُوْا ذَرْنَا نَكُنْ مَّعَ الْقٰعِدِيْنَ ﴿٨٦﴾ رَضُوْا بِاَنْ يَّكُوْنُوْا مَعَ الْخَوَالِفِ وَطُبِعَ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ فَهُمْ لَا يَفْقَهُوْنَ ﴿٨٧﴾ لٰكِنِ الرَّسُوْلُ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ جٰهَدُوْا بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ ۚ وَاُولٰٓئِكَ لَهُمُ الْخَيْرٰتُ ۚ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿٨٨﴾ اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۭ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿٨٩﴾ وَجَاۗءَ الْمُعَذِّرُوْنَ مِنَ الْاَعْرَابِ لِيُؤْذَنَ لَهُمْ وَقَعَدَ الَّذِيْنَ كَذَبُوا اللّٰهَ ع ١٦

اوکله چه نازل کړے شی یو سورة (په دے مضمون سره) چه ایمان راوړئ په الله تعالی او جهاد کوئ په ملګرتیا دَ رسول(ﷺ) دَهغه کښ نو اجازت غواړی ستانه طاقت والا خلق دَ دوی نه او وائی دوی چه پریږده مونږه چه شومونږه دَ کیناستونکو سره (٨٦) رضا (خوشحاله) دی دوی په دے خبره چه شی دَپاتے کیدونکو ښځو سره او مهروالے شویدے په زړونو دَ دوی پس دوی نه پوهیږی (په دے نقصان باندے) (٨٧) لیکن رسول(ﷺ) اوهغه څوک چه ایمان ئے راوړے دے دَ دهٔ تابعداریٔ کښ جهاد کوی په مالونو خپلو سره اونفسونو خپلو سره اودغه کسان دَ دوی دپاره ډیرے خوشحالئی دی اودغه کسان دوی کامیاب دی (٨٨) تیار کړیدی الله تعالی دوی دپاره جنتونه چه بهیږی لاندے دَهغے نه ولے همیشه به وی دوی په هغے کښ داکامیابی لویه ده (٨٩) او راغلل په دروغه بهانے کوونکی دَبانډچیانونه دَ دے دپاره چه اجازت اوکړیشی دویته اوکیناستل هغه کسان چه دروغ ئے وئیلی وو الله ته

فائده ده؟ جواب: مخکښ ایت کښ تفریع وه دپاره دَ منع دَ قبول دَ نفقاتودَ دے وجے نه ئے په فا سره راوړلو او دا ایت جواب دَ هغه وهم دے چه مخکښ ذکرشول۔

[٨٦] دا هم په طوردَ عطف سره ذکرکړودے ته عطف دَ قصه په قصه باندے وئیلے شی په دے ایت کښ هم زورنه ده منافقینوته چه کله دَ جهاد اعلان اوشی نومالدارکسان دَ دوی نه دَ پاتے کیدلوکوشش کوی دَ ﴿اٰمِنُوْا﴾ نه مراد مؤمنانودپاره همیشګیری دَ ایمان ده اودَ منافقانو دپاره اخلاص دَ ایمان دے اودائیے مخکښ ځکه ذکرکړوچه جهاد بغیردَ ایمان نه نه قبلیږی ﴿سُوْرَةٌ﴾ څه حصے دَ سورت ته هم سورت وئیلے شی یامراد دَ سورة نه ټول سورة توبه دے﴿اُولُوا الطَّوْلِ﴾ ئے ځکه خاص ذکر کړل چه دَ دوی طاقت او وس رسی اوسره دَ دے نه جهاد نه کوی ﴿الْقٰعِدِيْنَ﴾ عام مراد دے که مریضان اومعذوره وی او که زنانه اوبچی او بوډاګان وی۔

[٨٧] په دے ایت کښ هم زورنه ده منافقینوته اودَ هغوی یوصفت قبیحه ذکردے ﴿الْخَوَالِفِ﴾ جمع دَ خالِفَة ده، زنانه او واړه اومعذوره سړی دَ دے نه مراد دی۔ دارنګ خوالف ذلیل کسانوته هم وائي۔ ﴿يَفْقَهُوْنَ﴾ مراد دَ فقاهت نه دلته فرق دے په مینځ دَ فائدو دَ جهاد اودَ نقصانونودَ ترك الجهادکښ اودارنګ په مینځ دَ صحبت دَ مجاهدینوکښ اودَ صحبت دَ زنانوکښ اودارنګ په مقاصدودَ سورة باندے پوهه لرل۔

[٨٨،٨٩] په دے ایتونوکښ صفت دَ رسول الله اودَ صحابه کرامودے په جهاد کولوسره په مقابله دَ

وَرَسُوْلَهٗ ؕ سَيُصِيْبُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٩٠﴾ لَيْسَ عَلَى الضُّعَفَآءِ وَلَا عَلَى الْمَرْضٰى وَلَا
عَلَى الَّذِيْنَ لَا يَجِدُوْنَ مَا يُنْفِقُوْنَ حَرَجٌ اِذَا نَصَحُوْا لِلّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ؕ مَا عَلَى الْمُحْسِنِيْنَ مِنْ
سَبِيْلٍ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٩١﴾ وَّلَا عَلَى الَّذِيْنَ اِذَا مَآ اَتَوْكَ لِتَحْمِلَهُمْ قُلْتَ لَآ اَجِدُ مَآ

اورسول(ﷺ) دَهغه ته زردے چه اوبه رسی هغه کسانوته چه په کفر پاتے شوی دی دَ دوی نه عذاب دردناك (۹۰) نیشته په کمزورو باندے اونه په ناجوړو باندے اونه په هغه کسانو چه نه مومی هغه شے چه خرچ کړی څه ګناه (په کیناستلو دَجهاد نه) کله چه اخلاص کوی اللّٰه او رسول دَهغه ته نیشته په احسان کوونکو باندے هیڅ ملامتیا او اللّٰه عالی بخونکے رحم کوونکے دے(۹۱) اونیشته ګناه په هغه کسانو باندے چه کله راغلل تاته دے دپاره چه سورلی ورکړے دوی لره نوتا اُوئیل چه څه نه مومم هغه څیز

منافقانوکښ اودوی دپاره زیرے اُخروی دے اوپه لفظ دَ لٰکِن کښ فائده دا ده چه منافقان دِ داخیال نه کوی چه مونږجهاد نکوؤ نوبل څوك نیشته چه جهاد اوکړی نواللّٰه تعالٰی دَ مجاهدینو شان ذکرکړو اوبشارت په څلورو طریقو سره په اول ایت کښ دوه طریقے دی اوپه دویم کښ هم دوه طریقے دی۔

[۹۰] په دے ایت کښ هم زورنه ده منافقینوته اوبیان دَ حال دَ باندچیانومنافقانودے پس دَ حال دَ مدینے والونه﴿اَلْمُعَذِّرُوْنَ﴾په شد سره هغه چاته وائی چه په دروغه عذرکوی یعنی دے کسانوپه دروغه عذرکړے وؤ اوکله کله استعمالیږی دپاره دَ عذر صحیح ﴿وَقَعَدَ الَّذِيْنَ﴾ مراد دَ دے نه بله ډله ده چه هغوی بغیر دَ عذربنکاره کولونه دَ جهاد نه پاتے شول اومعنیٰ دا ده چه کیناستل دَ عذرکولونه یامراد دَ دینه دا مخکښی ډله ده چه دروغ عذرئیے پیش کړو اوپاتے شول دَ جهاد نه نومعنیٰ دا شوه چه کیناستل دَ جهاد نه﴿كَذَبُوْا﴾ مراد دَ دے دروغونه دعوه دَ ایمان دَ دوی ده یا مراد دَ دے نه دروغ عذردے ﴿كَفَرُوْا مِنْهُمْ﴾ منهم ئے ځکه اوفرمائیلوچه بعض کسانودَ دے نه دَ نفاق نه توبه ویستلے وه۔

[۹۱] پدے ایت کښ ذکردَ معذورینودے چه هغوی دَ صحیح عذردَ وجے نه جهاد نه پاتے شویدی نودوی ګنهګارنه دی پدے ایت کښ دَ هغوی نه درے قسمه ذکرکړیدی یو ضعیفان چه دا عام لفظ دے چه دَ بدن نه داسے طاقت ختم شوے وی چه په هغے سره جهاد کیدے شی، لکه پوندشوے وی، ګوډ، شل یابودا شوے وی۔ دویم مریضان په داسے مرض سره چه په جهاد کولوکښ زیاتی کیږی مرض دَ هغوی یا هلاکت ته رسوونکے وی۔ دریم معذور هغه کسان دی چه خرچه دَ جهاد نه مومی لیکن په دوی ئے دوه شرطه لګولی دی۔ یوداچه ﴿نَصَحُوْا لِلّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ﴾ نصیحت دپاره دَ اللّٰه تعالٰی اخلاص دَ عقیدے دَ توحید اودَ هرقسم شرك نه بچ کیدل اوعمل کول په اوامرو دَ اللّٰه تعالٰی اوبچ کیدل دَ منهیاتو دَ هغه نه اونصیحت دَ رسول اللّٰهﷺ دادے چه ایمان راوړی په هغه اودَ هغه اطاعت کوی اودَ هغه توقیر اومحبت کوی اودَ هغه دَ سنت اتباع کوی اودَ هغه نه دَ مخالفت کوونکو سره دشمنی کوی۔ دویم شرط دادے ﴿مَا عَلَى الْمُحْسِنِيْنَ﴾ په دے کښ اشاره ده دیته چه دا معذورین دَ خپل طاقت مناسب دَ ژبے جهاد کوی اواحسان کوی دَ مجاهدینوسره په حفاظت دَ اهل وعیال اودَ مالونودَ هغوی کښ یا دا چه دوی سرهٔ دَعذرنه نصیحت یوځائے کړے دے نو دَ دوی نوم محسنین شو۔

اَحِبُّكُمْ عَلَيْهِ ۚ تَوَلَّوْا وَّاَعْيُنُهُمْ تَفِيْضُ مِنَ الدَّمْعِ حَزَنًا اَلَّا يَجِدُوْا مَا يُنْفِقُوْنَ ﴿٩٢﴾ اِنَّمَا السَّبِيْلُ عَلَى الَّذِيْنَ يَسْتَاْذِنُوْنَكَ وَهُمْ اَغْنِيَآءُ ۚ رَضُوْا بِاَنْ يَّكُوْنُوْا مَعَ الْخَوَالِفِ ۙ وَطَبَعَ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ فَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٩٣﴾

چه سواره کړم تاسو په هغے باندے نو واپس شول دوی اوسترګو د دوی بَیولے اوښکے دَوجے دَغم نه په دے خبره چه نه مومی هغه څیز چه خرچ کړی دوی (۹۲) یقیناً ملامتیا په هغه کسانوده چه اجازت غواړی ستانه (دَپریخودلو دَجهاد) او دوی مالداروی خوشحاله دی دوی په دے خبره چه شی دَپاتے کیدونکو سره اومهر وهلے دے اللّٰه تعالیٰ په زړونو د دوی باندے پس دوی نه پوهیږی (۹۳)

[۹۲] دے کښ څلورم قسم معذور ذکردی یعنی هغه څوك چه دَ سفرکولودپاره سورلی نه مومی اودا دَ غزوه تبوك په وخت کښ اووه (۷)کسان وؤ رسول اللّٰهﷺ ته راغلل اوطلب دَ سورلوئے ترینه اوکړولیکن دَ هغه طاقت کښ سورلی ورکول نه وؤنودوی واپس شول اوډیره زمانه ئے زړاکوله اودوی ته بګاوون وئیلے کیدل۔ اوبل قول دا دے چه دوی پیزار یاموزے غوختلے وے﴿تَفِيْضُ مِنَ الدَّمْعِ﴾ په دے کلام کښ مبالغه دَ جزا مقصد ده ځکه چه په اصل کښ دَ موعهم تفیض من الاعین یا تمتلئ الاعین من الدموع ثم تفیض۔ ترجمه: اوښکے دَ دوی بهیږی دَ سترګونه یا سترګے ډکیږی دَ اوښکونه یابهیږی فائده: دا ایت دلیل دے په دے خبره چه دَ نبیﷺ په اختیارکښ چاله څاروی ورکول هم نیشته دَ جهاد دپاره اګرچه هغه په هغے وخت کښ ژوندے وؤ۔ نودَ مړوپه لاس کښ به څنګه څه اختیاروی چه مشرکین خلق دَ مړونه څاروی وغیره غواړی۔

[۹۳] په دے ایت کښ زورنه ده مالدارو منافقینوته داپه مقابله دَ لَايَجِدُوْنَ مَايُنْفِقُوْنَ او اَتَوْكَ لِتَحْمِلَهُمْ کښ دے﴿اَغْنِيَآءُ﴾ یعنی دوی قادر دی په نفقه او سورلئی باندے اومعذوره نه دی ﴿رَضُوْا﴾ جمله مستانفه ده علت دے دَ طلب دَ اذن دَ دوی۔ اوپه (۸۶،۸۷)کښ هم داسے مضمون ذکروؤ لیکن هلته هغه اغنیاء مراد دی چه ډیر مالداردی ځکه ئے هغوی ته اولوالطول وئیلے وؤ اودلته لږے غناء والا مراد دی چه صرف نفقه اوسورلئی باندے قادروی۔

يَعْتَذِرُوْنَ اِلَيْكُمْ اِذَا رَجَعْتُمْ اِلَيْهِمْ ؕ قُلْ لَّا تَعْتَذِرُوْا لَنْ نُّؤْمِنَ لَكُمْ قَدْ نَبَّاَنَا اللّٰهُ مِنْ اَخْبَارِكُمْ ؕ
وَسَيَرَى اللّٰهُ عَمَلَكُمْ وَرَسُوْلُهٗ ثُمَّ تُرَدُّوْنَ اِلٰى عٰلِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿٩٤﴾
سَيَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ لَكُمْ اِذَا انْقَلَبْتُمْ اِلَيْهِمْ لِتُعْرِضُوْا عَنْهُمْ ؕ فَاَعْرِضُوْا عَنْهُمْ ؕ اِنَّهُمْ رِجْسٌ وَّمَاْوٰىهُمْ
جَهَنَّمُ ۚ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿٩٥﴾ يَحْلِفُوْنَ لَكُمْ لِتَرْضَوْا عَنْهُمْ ۚ فَاِنْ تَرْضَوْا عَنْهُمْ فَاِنَّ اللّٰهَ
لَا يَرْضٰى عَنِ الْقَوْمِ الْفٰسِقِيْنَ ﴿٩٦﴾ اَلْاَعْرَابُ اَشَدُّ كُفْرًا وَّنِفَاقًا وَّاَجْدَرُ اَلَّا يَعْلَمُوْا حُدُوْدَ مَاۤ اَنْزَلَ

دروغ بهانے به کوی تاسوته کله چه واپس شئی تاسو دوی ته ته ورته اووایه مه کوئ بهانے هیڅرے باور نه کوو مونږ په تاسو باندے یقیناً خبر راکړیدے مونږته اللّٰه تعالیٰ دَحالاتو ستاسونه او اوبه وینی اللّٰه تعالیٰ عمل ستاسو او رسول(ﷺ) دَهغه بیابه اوګرځولے شئے اللّٰه تعالیٰ ته چه عالم دے په هرپټ اوښکاره باندے پس خبربه کړی تاسوپه هغه عملونو چه تاسوئیے کوئ (٩٤) زردے چه قسمونه به کوی په اللّٰه تعالیٰ باندے تاسوته کله چه واپس شئی تاسو دیته د ے دپاره چه تاسو مخ واړوئ دَ دوینه پس مخ واړوئ دَ دوی نه یقیناً دوی پلیت دی اوځائے دَ دوی جهنم دے بدله به ورکیدیشی دَهغه عملونو چه دوئ ئے کوی (٩٥) قسمونه کوی دوی تاسوته دے دپاره چه رضاشئی تاسو دَ دوینه پس که رضاشوئ تاسو دَ دوینه پس یقیناً اللّٰه تعالیٰ نه رضا کیږی دَقوم نافرمان نه (٩٦) باندې چیان ډیر سخت دی په کفر کښ اوبه منافقت کښ او لائق دی دَ دے خبرے چه نه پوهیږی په مطلب دَهغے احکامو چه نازل کړیدی

[٩٤]دا هم زورنه ده منافقینو ته اودا وحی نبی کریمﷺ ته په سفرد تبوك کښ راغلے وه په طریقه دَ پیشنګوئیے په دلیل دَ اِذَا رَجَعْتُمْ اِلَيْهِمْ سره او﴿يَعْتَذِرُوْنَ﴾ استیناف دے یعنی که اووئیلے شی چه دوی څنګه استیذان کوی نوطریقه دَ هغے ئے ذکر کړه په اعتذار سره۔ يَعْتَذِرُوْنَ اعتذارپه معنیٰ دَ دروغژن عذرونه۔ ﴿وَسَيَرَى اللّٰهُ عَمَلَكُمْ﴾ لفظ دَ مستقبل دلیل دے چه مراد دَ عملکم نه راتلونکی اعمال دی یعنی توبه کول دَ نفاق نه یا نه کول اوامداد کول دَ مؤمنانوسره په شرکت دَ قتال یا نه کول۔

فائده: دَ دے ایت نه بعضِ جاهلانو استدلال کړیدے چه نبیﷺ حاضر وناظر دے دَ هغے جواب دا دے چه ورپسے جمله کښ عالم الغیب صفت دَ اللّٰه تعالیٰ دپاره ذکرشویدے۔

[٩٥] دا ایت بیا زورنه ده منافقینوته اودَ هغوی دوه صفات قبیحه ذکردی ﴿فَاَعْرِضُوْا عَنْهُمْ﴾ مراد دا دے چه دَ دوی سره خبرے هم مه کوئے اوکیناستل هم مه کوئے﴿لِتُعْرِضُوْا﴾ مراد دَ دے نه اعراض دَ صفح دے یعنی نه ملامته کول او اعرضوا کښ مراد دَ اعراض نه مجلس اوسلام کلام پریښودل دی په دلیل دَ علت سره چه ﴿اِنَّهُمْ رِجْسٌ﴾ دے او مراد دَ دے نه نجاست معنویه باطنیه دے یعنی لکه چه دَ پلیت څیزنه ځان ساتل ضروری دی نو دارنګ دَ دوی نه ځان ساتل لازم دی دپاره دَ دے چه دَ دوی پلیتی په تاسو کښ اثر اونکړی۔

[٩٦] دا هم زورنه ده منافقانو ته اوصریح ده په دے خبره کښ چه اللّٰه تعالیٰ دَ منافقینونه خفه دے اورضاکیدل اوچت دی دَ اعراض نه نو دا ترقی ده دَ ماقبل نه اومعلومه شوه چه دَ منافقانونه اعراض کول جائز دی لیکن رضاکیدل دَ هغوی نه منع دی۔

اللّٰهُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿٩٧﴾ وَمِنَ الْاَعْرَابِ مَنْ يَّتَّخِذُ مَا يُنْفِقُ مَغْرَمًا وَّيَتَرَبَّصُ
بِكُمُ الدَّوَآئِرَ ؕ عَلَيْهِمْ دَآئِرَةُ السَّوْءِ ؕ وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿٩٨﴾ وَمِنَ الْاَعْرَابِ مَنْ يُّؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ
الْاٰخِرِ وَيَتَّخِذُ مَا يُنْفِقُ قُرُبٰتٍ عِنْدَ اللّٰهِ وَصَلَوٰتِ الرَّسُوْلِ ؕ اَلَآ اِنَّهَا قُرْبَةٌ لَّهُمْ ؕ سَيُدْخِلُهُمُ اللّٰهُ
فِيْ رَحْمَتِهٖ ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٩٩﴾ وَالسّٰبِقُوْنَ الْاَوَّلُوْنَ مِنَ الْمُهٰجِرِيْنَ وَالْاَنْصَارِ وَالَّذِيْنَ ع ١٢
اتَّبَعُوْهُمْ بِاِحْسَانٍ ۙ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ وَاَعَدَّ لَهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ تَحْتَهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ

اللّٰه تعالیٰ په رسول(ﷺ) خپل او اللّٰه تعالیٰ پوهه دے حکمتونو والا دے (۹۷) او بعضے ډبانډ چیانونه هغه څوك دی چه ګڼړی خرچ کول(په لار د اللّٰه کښ) تاوان او انتظار کوی په تاسو باندے د آفتونو په دوی باندے د وی آفت ناکاره او اللّٰه تعالیٰ هرڅه اوری پوهه دے (۹۸) او بعضے د ډانډ چیانونه هغه څوك دی چه ایمان لری په اللّٰه تعالیٰ اوپه ورځ روستنئے او ګڼړی خرچ کول(په لار د اللّٰه کښ) سبب د نزدیکت اللّٰه تعالیٰ ته اوسبب د دُعاګانو د رسول(ﷺ) خبردار یقیناً داخرچ کول سبب د نزدے والی د دوی دے زردے چه داخل به کړی دوی لره اللّٰه تعالیٰ په خاص رحمت خپل کښ یقیناً اللّٰه تعالیٰ بخونکے دے رحم کوونکے دے (۹۹) اومخکښ کیدونکی ایمان ته چه ډومبی دی د مهاجرینو او د انصارونه اوهغه کسان چه تابعداری کوی د دوی په ښه وینا کولوسره رضادے اللّٰه تعالیٰ د دوی نه او دوی رضا دی د هغه نه اوتیارکړی دی دوی لره جنتونه چه بهیږی لاندے د هغے ولے همیشه به وی دوی

[۹۷] دا هم زورنه ده ډانډ چیانومنافقانوته په ذکر د دوه صفاتوقبیحوسره ﴿اَلْاَعْرَابُ﴾ جمع د اعرابی ده هغه څوك چه په بانډه کښ اوسی اوعربی هغه دے چه نسب ئے د عربوسره وی ﴿وَاَجْدَرُ﴾ دا علت دے د اشَدُّ دپاره یعنی کفراونفاق د دوی ځکه سخت دے چه دوی د قرآن پاك اود سنت نه اود احکاموډ شریعت نه ډیرنا خبره دی ﴿حُدُوْدَ﴾ لفظ عام دے احکامواو ادابواومعانی اومقاصدوته۔

[۹۸] دے کښ هم زورنه ده دغے منافقینوته اود هغوی دوه صفات قبیحه ذکردی ﴿مَغْرَمًا﴾ هغه څیزچه انسان ئے واجب اوفائده مند نه ګڼړی اومجبوراً ئے کوی اودا صفت په علاماتود قیامت کښ هم حساب دے ﴿الدَّوَآئِرَ﴾ جمع د دائرةٌ ده، هغه حالت ته وائي چه بدل شی د نعمت نه مصیبت ته مراد ترینه عامے حادثے دی﴿عَلَيْهِمْ دَآئِرَةُ السَّوْءِ﴾ دا دعاء شرده په دوی باندے په اخرد ټولوصفاتو کښ اود دے نه مراد حادثے د مصیبتونواود عذابونواود شکست دی۔

[۹۹] دا ذکرد بعضِ بانډ چیانومؤمنانودے په مقابله د منافقانو کښ اوبشارت دے هغوی ته ﴿وَصَلَوٰتِ الرَّسُوْلِ﴾ مراد د دے نه دُعاګانے د پیغمبردی چه هغه به صدقه ورکوونکوته دُعاکوله لکه ایت (۱۰۳) کښ دا راتلونکے دے﴿اَلَآ اِنَّهَا قُرْبَةٌ لَّهُمْ﴾ هرکله چه په صلوٰة الرسول کښ هم مقصد د قربت الٰهي وؤد دے وجے نه صرف د قربت ذکرئے په ډیرتاکید سره اوکړو اوغایة د قربت ئے په ﴿سَيُدْخِلُهُمُ اللّٰهُ﴾ سره ذکرکړله اود رحمت نه مراد جنتونه دی۔

فِيْهَآ اَبَدًا ؕ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿١٠٠﴾ وَمِمَّنْ حَوْلَكُمْ مِّنَ الْاَعْرَابِ مُنٰفِقُوْنَ ۛ وَمِنْ اَهْلِ الْمَدِيْنَةِ ۛ
مَرَدُوْا عَلَى النِّفَاقِ ۖ لَا تَعْلَمُهُمْ ؕ نَحْنُ نَعْلَمُهُمْ ؕ سَنُعَذِّبُهُمْ مَّرَّتَيْنِ ثُمَّ يُرَدُّوْنَ اِلٰى عَذَابٍ عَظِيْمٍ ﴿١٠١﴾

په هغے کښ همیشه داکامیابی لویه ده (۱۰۰) اودَهغه چانه چه چاپیره دی ستانه دَبانلې چیانونه منافقان دی اوبعضے دَمدینے والونه کلك دی په منافقت باندے نه پیژنے ته دوی مونږ پیژنو دوی زردے چه عذاب به ورکړو دوی لره دوه ځله بیابه اوګرځولے شی دوی عذاب لوئے ته (۱۰۱)

[۱۰۰] دَ دے ځائے نه تر اخرَ سورة پورے ځلورمه حصه ده اوپه دے حصه کښ درے قسمه دَ صحابه کرامونه ذکرشویدی په واقعه دَ تبوك کښ۔ یوقسم مجاهدین دویم قسم پاتے کیدونکی دَ جهاد نه لیکن زرتوبه ایستونکی اودریم قسم پاتے کیدونکی دَ جهاد نه اوروستو کوونکی توے لره۔ اوپه دے حصه کښ ترغیبات دی جهاد ته اودارنګ زورنے دی منافقینوته دَ هغوی په ناکاره اعمالواوپه اخرَ سورة کښ صدق دَ رسول ﷺ اودعوٰی دَ توحید ده؛ په دے ایت کښ لوئے والے دَشان اوزیږے په رضا دَ اللّٰه تعالٰی اوپه جنتونوسره دَ ټولوصحابو رضوان اللّٰه اجمعین دپاره ذکردے۔ اودارنګ هغه کسان چه دَ صحابه کرامو تابعداری کوونکی وی سرهٔ دَ دے نه چه مدحه کوی دَ صحابو۔ په دے ایت کښ دوه قولونه دی اول دا چه السابقون نه مراد هغه صحابه کرام دی چه دَ ټولونه مخکښ ایمان اوهجرت اونصرت صفت ئے حاصل کړیدے اودَ والذین اتبعونه مراد نورصحابه کرام دی چه روستو ئے ایمان راوړے دے دویم قول دا دے چه مراد السابقون الاولون نه ټول صحابه کرام دی لکه چه الواحدی په تفسیر الوجیزکښ ذکرکړی دی چه ټول صحابه کرام دَ اُمت نه مخکښ دی په ایمان راوړلو اوپه صحبت او رویت دَ نبی ﷺ کښ او وَالَّذِينَ اتَّبَعُوا نه روستوخلق مراد دی په شرط دَ اتباع اودَ احسان سره ترقیامته پورے نوبنا په اول قول باندے په دے ایت کښ تفاوت دَ مرتبودَ صَحابوته هم اشاره ده۔ یوقسم والسَّابِقُونَ الأَوَّلُونَ اودویم قسم دَ هغوی نه روستوایمان راوړونکی ﴿بِاِحْسَانٍ﴾ معنیٰ دا ده چه تابعداری کوی دَ صحابه کراموسره دَ نیکے وینانه په باره دَ هغوی کښ نوپدے لفظ سره هغه خلق خارج شول چه هغوی دَ صحابه کرامو عیبونه بیانوی اوپه هغوی طعن کوی لکه شیعه ګان اوروافض وغیره۔

نکتهٔ: دَ تاکید دَ بشارت دَ وجے نه دَ تَحتِها نه من غورځولے دے چه دلالت کوی په دیرنزدیکت باندے سرهٔ دَ لاندے والی نه۔

[۱۰۱] دے ایت کښ ذکر دے دَ منافقینو اوهغوی له یره ورکول دی په عذاب سره اوربط دَ دے دَ مخکښ ایت سره ربط دَ مقابلے دے یعنی دَ منافقانومقابل صحابه کرام دی ﴿لَا تَعْلَمُهُمْ﴾ الوسی اوقرطبی وئیلی دی چه دا ایت صریح دلیل دے په دے خبره چه پیغمبرپاك تر اخر وخت پورے هم په غیب باندے نه پوهیدلو ځکه چه دا سورة دَ هغے سورتونونه دے چه په نهم اولسم کال دَ هجرت نازل شوی دی۔ بل دا دلیل دے په دے خبره چه دَ هیچا په باره کښ یقیناً حکم نشی کیدے چه دا جنتی دے یا دوزخی دے ماسیوا دَ هغے کسانونه چه رسول اللّٰه ﷺ دَ هغوی په باره کښ خبرورکړے دے ﴿سَنُعَذِّبُهُمْ مَّرَّتَيْنِ﴾ په دے کښ یو عذاب دنیوی دے اودویم عذابِ قبردے ﴿ثُمَّ يُرَدُّوْنَ﴾ دینه مراد عذاب دَ قیامت دے داسے الواحدی په الوجیزکښ اوابن کثیر ذکرکړی دی۔

وَاٰخَرُوْنَ اعْتَرَفُوْا بِذُنُوْبِهِمْ خَلَطُوْا عَمَلًا صَالِحًا وَّاٰخَرَ سَيِّئًا ؕ عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّتُوْبَ عَلَيْهِمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ
غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١٠٢﴾ خُذْ مِنْ اَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيْهِمْ بِهَا وَصَلِّ عَلَيْهِمْ ؕ اِنَّ صَلٰوتَكَ سَكَنٌ
لَّهُمْ ؕ وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿١٠٣﴾ اَلَمْ يَعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ هُوَ يَقْبَلُ التَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهٖ وَيَاْخُذُ الصَّدَقٰتِ
وَاَنَّ اللّٰهَ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ ﴿١٠٤﴾ وَقُلِ اعْمَلُوْا فَسَيَرَى اللّٰهُ عَمَلَكُمْ وَرَسُوْلُهٗ وَالْمُؤْمِنُوْنَ ؕ

اونور کسان دی چه اقرار ئے کړے دے په ګناهونو خپلو(دَتوبے دپاره) ګډ کړیدے دوی څه نیك عمل او نور بدعمل نزدے ده چه اللّٰه تعالیٰ توبه قبوله کړی دَ دوی یقیناً اللّٰه تعالیٰ بخونکے دے رحم کوونکے دے (۱۰۲) اخله دَمالونو دَ دوی نه زکوٰة چه پاکوے ته دوی لره (دَګناهونونه) اوزیاتی کوی دوی لره مال په سبب دَهغے او دُعاکوه دوی ته یقیناً دُعاستا ارام دے دَزړونو دَ دوی او اللّٰه تعالیٰ هرڅه اوری په هرڅه پوهه دے (۱۰۳) آیا دوی نه پوهیږی چه یقیناً اللّٰه تعالیٰ قبلوی توبه دَبندګانو خپلونه او قبلوی زکوٰتونه او یقیناً اللّٰه تعالیٰ ډیر توبه قبلوونکے رحم کوونکے دے (۱۰٤) اووایه عمل کوئ پس خامخا وینی اللّٰه تعالیٰ عمل ستاسو او رسول(ﷺ) دَهغه او مؤمنان

[۱۰۲] دے ایت کښ دویم قسم دَ صحابو کراموته اشاره ده چه هغوی دَ غزوه تبوك نه پاتے شوی وؤاوبیائے ځانونه دَ جماعت په ستنوپورے ترلی وؤ او وعده ئے کړے وه چه مونږ ځان نه پرا نیزو تردے چه زمونږ توبه قبوله شی او رسول اللّٰهﷺ مونږ پر انیزی اود غسے اوشول۔ دَ ابوعثمان نه روایت دے چه نیشته په قرآن کښ یو ایت چه زما په نیز ډیرامید کیدیشی دَ هغے دپاره دَ دے امت مګردا دے اشاره ده دیته چه دا ایت عام دے صحابو پورے خاص نه دے ﴿عَمَلًا صَالِحًا﴾ په نورجهادونو کښ شرکت کول اودارنګ دَ دے ګناه نه زرتوبه کول ﴿تُطَهِّرُهُمْ﴾ ضمیرد فاعل راجع دے صدقه ته اوصیغه دَ مؤنث غائب ده یا صیغه دَ مخاطب ده چه نبی ﷺ دے ﴿وَتُزَكِّيْهِمْ﴾ دا صیغه دَ مخاطب ده یقیناً اومراد دَ تزکیه نه بچ کول دی دَ خباثت دَ نفاق نه او زیادت دَ مال اودَ درجاتو سره اونسبت دَ دے نبی ﷺ ته سببی دے چه هغه دُعا دَ هغه ده چه ورپسے دَ صَلِّ سره ذکرده۔

[۱۰۳] دا ایت هم دَ دغه صحابه کرامو په باره کښ دے چه رسول اللّٰهﷺ دَ هغوی دَ زکوٰة قبض کولونه منع کړے وه نواللّٰه تعالیٰ او فرمائیل چه دَ دوی توبه قبول شوے ده نو زکوٰة دَ دوی قبض کوه اوداحکم بیا عام دے هرامیرالمؤمنین ته چه دَ مؤمنانو زکوٰة دِ قبض کوی اوهغوی ته دِ دُعا کوی۔

فائده: طریقه دَ رسول اللّٰهﷺ دا وه چه زکوٰة به صحابه کرامو راوړونو رسول اللّٰه ﷺ به قبض کوولیکن دا قبض به په طریقه دَ وکالت سره وؤنه په طریقه دَ ملکیت سره۔

[۱۰٤] دے ایت کښ ترغیب دے توبے کولوته اوصدقاتو ورکولوته، اشاره ده په دیکښ دیته چه عبادت مالی سره عبادت بدنی یعنی توبه یوځائے کول پکار دی او دا ایت دلیل دے چه په (۱۰۲) کښ عسیٰ دپاره دَ شك نه دے ﴿يَاْخُذُ﴾ دا صفت دَ اللّٰه تعالیٰ په حدیث دَ ابن مسعود کښ ذکر کړے دے چه اِنَّ الصدقة تقع فی ید اللّٰه تعالیٰ قبل ان تقع فی ید السائل (ابن کیثر) **ترجمه:** یقیناً صدقه دَ اللّٰه تعالیٰ په لاس کښ پریوزی مخکښ دَ پریوتلونه په لاس دَ سوال کوونکی کښ۔

وَسَتُرَدُّوْنَ اِلٰى عٰلِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿١٠٥﴾ وَاٰخَرُوْنَ مُرْجَوْنَ لِاَمْرِ اللّٰهِ
اِمَّا يُعَذِّبُهُمْ وَاِمَّا يَتُوْبُ عَلَيْهِمْ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿١٠٦﴾ وَالَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مَسْجِدًا ضِرَارًا وَّكُفْرًا
وَّتَفْرِيْقًا بَيْنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَاِرْصَادًا لِّمَنْ حَارَبَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ مِنْ قَبْلُ ؕ وَلَيَحْلِفُنَّ اِنْ اَرَدْنَاۤ اِلَّا
الْحُسْنٰى ؕ وَاللّٰهُ يَشْهَدُ اِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ﴿١٠٧﴾ لَا تَقُمْ فِيْهِ اَبَدًا ؕ لَمَسْجِدٌ اُسِّسَ عَلَى التَّقْوٰى مِنْ اَوَّلِ

اوزردے چه اوبه ګرځولے شئی تاسو اللّٰه تعالیٰ ته چه پوهه دے په پټو اوپه ښکارو پس خبربه درکړی تاسولره په هغه عملونو چه تاسو ئے کوئے (١٠٥) اونورکسان دی روستو کړے شوی دی فیصلے دَ اللّٰه تعالیٰ ته یابه عذاب ورکړی دوی لره اویابه توفیق دَتوبے ورکړی دوی لره او اللّٰه تعالیٰ پوهیږی په هرڅه حکمتونو والادے (١٠٦) (اوبعضے دَمنافقانونه) هغه کسان دی چه جوړ کړے ئے دے جماعت دَضرر ورکولو دپاره او دَوجے دَکفرنه او دپاره دَجدائے په مینځ دَمؤمنانو کښ اومورچه دپاره دَهغه چاچه خلاف ئے کړیدے دَاللّٰه تعالیٰ اودَهغه دَرسول(ﷺ) نه مخکښ دَ دینه اوخامخا دوی قسمونه کوی چه مونږ اراده نه ده کړے په دے سره مګر نیکی کول او اللّٰه تعالیٰ خبرورکوی چه بیشکه دوی دروغژن دی (١٠٧) مه اودریږه ته په دے جماعت کښ هیڅرے (دَمانځه دپاره) خامخا هغه جماعت چه بنیاد ئے کیخودلے شویدے په اخلاص دَعقیده باندے دَاولے

[١٠٥] دا ایت هم خطاب وؤ اولاً صحابوته اوبیا ټولومؤمنانوته۔

نکتهٔ: په دے ایت کښ والمؤمنون ذکردے او ایت (٩٤) کښ دا نه وؤ ذکرشوے دَ دے وجه دا ده چه هغه ایت په باره دَ منافقینو کښ وؤ اوهغوی دَ مؤمنانونه پټ کارونه کول نوهلته ځکه مؤمنون ذکرنه شو اودا ایت په باره دَ مؤمنانو کښ دے اودَ مؤمنانوعمل دَ نورو مؤمنانوسره شریك وی اودَ هغوی په مخکښ وی او هغوی ترینه خبریږی۔

[١٠٦] دا دریم قسم صحابه کرام دی، دا درے کسان وؤ، کعب بن مالك، هلال بن اُمیه او مراره بن ربیع رضی اللّٰه عنهم دوی دَ غزوه تبوك نه پاتے شوی وؤ بغیرد ځه عذرنه اوبیا ئے په توبه کښ هم تاخیرکړے ووچه دَ هغے تفصیل په حدیث دَ بخاری کښ راغلے دے په دے ایت کښ دَ هغوی فیصله موقوف شوه اودَ دوی توبه پنځوس ورځے بعد قبوله شوے ده چه دَ هغے ذکر (١١٨) ایت کښ به راځی۔ ﴿اِمَّا يُعَذِّبُهُمْ وَاِمَّا يَتُوْبُ عَلَيْهِمْ﴾ دا تردید په نسبت دَ بندګانوسره دے چه تاسو دَ دے انتظار اوکړئے یعنی یا عذاب یاتوبه۔

[١٠٧] په دے ایت کښ زورنه ده په خاص عمل دَ منافقانوچه هغه مسجد ضرار جوړول وؤاودا ئے دَ دے دپاره ذکرکړوچه دَ مؤمنانواودَ منافقینو په مینځ کښ تمیز راشی دا مسجد ضرار دے منافقانوپه مقابله دَ مسجد قباکښ جوړ کړے وؤاودا طریقه دوی ته ښودلے وه ابوعامر راهب، چه هغه مرتد شوے وؤاودَ قیصر روم سره ئے رابطه جوړه کړے وه۔ تفصیلی واقعه مفسرینو لیکلے ده هرکله چه دا مسجد ئے تیارکړونو راغلل رسول اللّٰهﷺ ته او هغه دَ تبوك دپاره تیاری کوله نو دوی ورته اُوئیل چه مونږ یو جماعت جوړ کړے دَ معذورو خلقو دپاره او زمونږ دا خوښه ده چه ته په هغه کښ اول مونځ اوکړے اودَ برکت دُعا اوکړے نو رسول اللّٰهﷺ اوفرمائیل چه اوس ځه مشغول یم په تیار ئے دَ سفرکښ او هرکله چه واپس راشم نو بیابه

يَوْمٍ اَحَقُّ اَنْ تَقُوْمَ فِيْهِ ؕ فِيْهِ رِجَالٌ يُّحِبُّوْنَ اَنْ يَّتَطَهَّرُوْا ؕ وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُطَّهِّرِيْنَ ﴿١٠٨﴾ اَفَمَنْ اَسَّسَ
بُنْيَانَهٗ عَلٰى تَقْوٰى مِنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانٍ خَيْرٌ اَمْ مَّنْ اَسَّسَ بُنْيَانَهٗ عَلٰى شَفَا جُرُفٍ هَارٍ فَانْهَارَ بِهٖ فِيْ
نَارِ جَهَنَّمَ ؕ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿١٠٩﴾ لَا يَزَالُ بُنْيَانُهُمُ الَّذِيْ بَنَوْا رِيْبَةً فِيْ قُلُوْبِهِمْ اِلَّآ

ورځے نه لائق دَ دے دے چه ته په کښ اودریږے (دَمانځه دپاره) په دے جماعت کښ داسے سړی دی چه خوخوی پاکوالے خپل او اللّٰه تعالیٰ مینه کوی دَ داسے پاکانو سره (۱۰۸) آیا پس هغه څوك چه ایخے ئے دے بنیاد دَآبادئے خپلے په یره دَ اللّٰه تعالیٰ اوپه رضامندئ دَهغه غوره دے اوکه هغه څوك چه ایخے ئے دے بنیاد دَ آبادئے په غاړه دَیو ډ ډکمر باندے چه غورزیږی پس اوغورزیږی سره دَ دهٔ نه په اُور دَجهنم کښ او اللّٰه تعالیٰ توفیق دَنیکئ نه ورکوی قوم ظالمانو ته (۱۰۹) همیشه به وی آبادے دَ دوی هغه چه دوی جوړه کړے وه سبب دَغصے په زړونو دَ دوی کښ (پس دَنړیدلو دَهغے نه) تر هغه وخته

ستاسومسجد کښ مونځ اوکړم هرکله چه رسول اللّٰهﷺ لاړوتبوك ته او واپس شونواللّٰه تعالیٰ دا وحی را اولیږله او په دے ایت (۱۰۷) کښ دَ هغے مسجد څلورصفات قبیحه ئے بیان کړیدی اوهغه په اصل کښ صفات دی دَ جوړ وونکودَ مسجد اول ضرر ورکول بل مسجد ته ، اوضرار اوضررکښ دا فرق دے، ضرارهغه کاردے چه نه وی په هغے کښ هیڅ فائده اوستا ګاونډی ته نقصان وی اوضرر هغے ته وائي چه ستا په هغے کښ فائده وی اوضررګاونډی ته وی۔ دویم صفت کفردے یعنی جوړوونکودا مسجد دَکفرپه عقیده باندے جوړ کړے دے اودریم تفریق دے یعنی دے دپاره ئے جوړ کړیدے چه دَ مؤمنانوپه مینځ کښ جدائي راشی اوڅلورم ارصاد دے یعنی هغه څوك چه مشرك اومبتدع وی نوهغه له په دے مسجدکښ ځائے ورکوی دپاره دَ بیان یا دپاره دَ نورومکرونو۔

فائده: دَ دے نه معلومه شوه چه هرکار دَ دین چه څوك په غرض فاسد سره کوی نوپه هغه کښ صفت دَ نفاق دے ﴿مِنْ قَبْلُ﴾ مخکښ دَ مسجد جوړولونه یا مخکښ دَ غزوه تبوك نه ﴿اِلَّا الْحُسْنٰى﴾ یعنی دوی وئیل چه مونږدَ بوډاګانواو معذورو خلقودپاره جوړ کړے دے چه مسجد قبأ اومسجد نبوی ته نشی رسیدلے۔

[۱۰۸] په دے ایت کښ حکم دَ مسجد ضراربیان شوچه په هغے کښ مونځ کول منع دی ﴿لَمَسْجِدٌ اُسِّسَ عَلَى التَّقْوٰى﴾ په دے کښ اختلاف دے چه مراد دَ دے نه مسجد قبأ دے یا مسجد نبوی دے۔ غوره په دیکښ اول قول دے لیکن دا حکم عام دے ﴿مِنْ اَوَّلِ يَوْمٍ﴾ مراد ترینه هغه اوله ورځ دَ هجرت دَ نبیﷺ ده چه په هغے کښ مدینے منورے ته را اورسیدل اودَ مسجد قبا بنیاد ئے کیښودو اودَ دے لفظ نه عمرؓ استنباط کړیدے دپاره دَ شروع کولودَ تاریخ دَ هجرت ﴿رِجَالٌ يُّحِبُّوْنَ﴾ داصفت دے دَ صحابه کرامو ﴿اَنْ يَّتَطَهَّرُوْا﴾ مراد دَ تطهرنه عام دے با طنی پاکوالے یعنی دَ شرك او ګناهونونه ځان بچ ساتل اوظاهری پاکوالے یعنی استنجاء کول اوپه اودس ماتی پسے زربیا اودس کول اوپه اودس پسے دوه رکعاتونه کول اوپه جنابت پسے زرغسل کول دا په مختلف روایاتو سره ثابت دی۔

[۱۰۹] په دے ایت کښ دَ دغه دوو قسمونو جماعتونو په مینځ کښ تقابل دے او مسجد ضرار والوته یره ورکول دی اودا علت دے دپاره دَ ماقبل ایت ﴿تَقْوٰى مِنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانٍ﴾ تقویٰ علت مادیه دے او

اَنْ تَقَطَّعَ قُلُوْبُهُمْ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿١١٠﴾ اِنَّ اللّٰهَ اشْتَرٰى مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اَنْفُسَهُمْ وَاَمْوَالَهُمْ بِاَنَّ
لَهُمُ الْجَنَّةَ ؕ يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَيَقْتُلُوْنَ وَيُقْتَلُوْنَ ۟ وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِي التَّوْرٰىةِ وَالْاِنْجِيْلِ
وَالْقُرْاٰنِ ؕ وَمَنْ اَوْفٰى بِعَهْدِهٖ مِنَ اللّٰهِ فَاسْتَبْشِرُوْا بِبَيْعِكُمُ الَّذِيْ بَايَعْتُمْ بِهٖ ؕ وَذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ
الْعَظِيْمُ ﴿١١١﴾ اَلتَّآئِبُوْنَ الْعٰبِدُوْنَ الْحٰمِدُوْنَ السَّآئِحُوْنَ الرّٰكِعُوْنَ السّٰجِدُوْنَ الْاٰمِرُوْنَ

چه ټکړے ټکړے شی زړونه ډ دوی او الله تعالیٰ پوهه دے حکمتونو والا دے (۱۱۰) یقیناً الله تعالیٰ اغستی دی ډمؤمنانونه نفسونه ډهغوی اومالونه ډهغوی په بدله ډ دے کښ چه دوی لره به جنت وی جنګ به کوی په لار ډالله تعالیٰ کښ پس وژنی به کافرانولره اووژلے کیدے به شی دوی وعده کړیده ډ دوی سره الله تعالیٰ وعده رشتینے چه ذکر شویده په تورات او انجیل او قرآن کښ او څوك زیات پوره کوونکے دے لوظ خپل لره ډ الله تعالیٰ نه پس خوشحاله شئ په خرڅولو خپلوچه سوداکړے ده تاسو الله تعالیٰ سره په هغے او داکامیابی لویه ده (۱۱۱) (داخلق) توبه کوونکی دی الله تعالیٰ ته بندګی کوونکی دی ډهغه ستائینه کوونکی دی ډهغه ګرځیدونکی دی دپاره ډجهاد رکوع کوونکی دی سجده کوونکی دی حکم کوونکی دی

رضوان علت غائیه دے او پدیکښ اشاره ده چه بنیاد ډ دوی قوی اومضبوط دے اودَ مقابل بنیاد کمزورے دے او ﴿عَلٰى شَفَا جُرُفٍ﴾ په طریقه ډ مثال دے دپاره ډکمزوری بنیاد اوپه دے کښ اشاره ده چه ډ مسجد ضرار بنیاد کمزورے دے ﴿لَا يَهْدِيْ﴾ مراد ډ دے نه هدایت ډ اصلاح اودَ نجات دے ﴿جُرُفٍ﴾ هغه کمر په کنده ډ اوبو کښ یا په ویخ ډکوهی کښ چه اوبو خوړلے وی نوپه کښ ډ ډ وی۔

[۱۱۰] هرکله چه رسول الله ﷺ ډ مسجد ضرار ډ نړولوحکم اوکړواوصحابه کراموهغه اونړوونوپه هغے منافقان ډیرغصه شول لیکن هیڅ مقابله ئے نه شوه کولے دے ایت کښ هغے ته اشاره ده ﴿بُنْيَانُهُمْ﴾ دا مصدرپه معنیٰ ډ مفعول دے اودلته مضاف محذوف دے یعنی هدم بنیاهم (نړول ډ اباد ئے ډ دوی) اوریبةً نه مراد غضب اوغیظ دے یابنیان نه مراد نفس ابادول ډ مسجد ضراردی یعنی مصدرپه خپله معنیٰ سره دے اومضاف محذوف نه دے یعنی هرکله چه مسجد ضرار ئے اباد کړو نوسبب شو دپاره ډ زیادت ډ منافقت نومراد ډ ریبة نه نفاق دے ﴿اِلَّآ اَنْ تَقَطَّعَ﴾ الّاپه معنیٰ ډ الیٰ اَن سره دے اومراد ډ دینه مرګ دے په غصه اوپه نفاق باندے او وئیلے شویدی چه مراد ډ دینه توبه ده په اخلاص ډ زړه سره۔

[۱۱۱] دے ایت کریمه کښ ترغیب دے جهاد ته په لس تاکیداتوسره روستوډ زجرشدید نه په پریښودونکوډ جهاد باندے دا په طریقه ډ تمثیل سره دے چه ډ مؤمنانونفسونه اومالونه ډ الله تعالیٰ په طاعت کښ خرچ کیدل دا پشان ډ مبیعه (سودا) دی او جنت ډ هغے عوض پشان ډ قیمت دے ﴿يُقَاتِلُوْنَ﴾ دابیان ډ انفسهم دے چه مبیعه ده نوپدیکښ اشاره ده چه مالونه اونفسونه ډ مؤمنانوملکیت ډ الله تعالیٰ دے نومؤمنانو لره اختیارنیشته چه دا بغیرډ رضا ډ الله تعالیٰ نه خرچ کړی۔

بِالْمَعْرُوْفِ وَ النَّاهُوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَ الْحٰفِظُوْنَ لِحُدُوْدِ اللّٰهِ ؕ وَ بَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۱۲﴾ مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ
وَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْ يَّسْتَغْفِرُوْا لِلْمُشْرِكِيْنَ وَلَوْ كَانُوْٓا اُولِيْ قُرْبٰى مِنْۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمْ اَنَّهُمْ اَصْحٰبُ
الْجَحِيْمِ ﴿۱۱۳﴾ وَمَا كَانَ اسْتِغْفَارُ اِبْرٰهِيْمَ لِاَبِيْهِ اِلَّا عَنْ مَّوْعِدَةٍ وَّعَدَهَآ اِيَّاهُ ۚ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهٗٓ اَنَّهٗ

په نیکئ سره اومنع کوونکی دی دَبدئ نه اوساتنه کوونکی دی دَپولو دَاللّٰه تعالیٰ او زیږه ورکړه داسے ایمان والو لره (۱۱۲) نه دی جائز پیغمبر لره او مؤمنانو لره چه بخنه غواړی دَمشرکانو دپاره اګرکه وی خپلوان دَ دوی پس دَهغے نه چه ښکاره شوے ده دوی ته چه دوی جهنم والادی (۱۱۳) اونه وه بخنه غوښتل دَ ابراهیم(علیه السلام)پلارخپل لره مګر دَوعدے دَوعدے نه وه چه کړے وه دَهغه سره پس هرکله چه ښکاره شوه دهٔ ته چه یقیناً دے

[۱۱۲] په دے ایت کښ دَ مؤمنانو لس صفات ذکردی دَ ترغیب دپاره۔ اودَ دے دپاره چه دَ صفت دَ جهاد سره دا لس صفات هم ضروری دی دپاره دَ حصول دَ درجاتودَ جنت اودا صفات باطنیه اوظاهریه بدنیه ټولوته شامل دی ﴿التَّآئِبُوْنَ﴾ مراد دَ دے نه دَ ټولوګناهونونه توبه کول دی که شرك یا کفر وی اوکه نورګناهونه کبیره اوصغیره وی په حقوق اللّٰه اوپه حقوق العبادکښ ﴿الْعَابِدُوْنَ﴾ مراد دَ دے نه ټول عبادات قلبیه ظاهریه بدنیه اومالیه دی ﴿السَّآئِحُوْنَ﴾ یومعنیٰ روژه دارځکه چه روژه دار سړے خوراك اوڅښاك اوشهوات پریږدی دویمه معنیٰ مجاهدین ﴿بِالْمَعْرُوْفِ﴾ توحید وسنت دے او المنکرشرك وبدعت دے دارنګ دا دواړه لفظونه هرنیکئی اوبدئی ته شامل دی ﴿وَالنَّاهُوْنَ﴾ پدیکښ واؤ ذکر شوے ووَدَ دے وجے نه چه واؤ دپاره دَ جمعے دے نومطلب داشو چه امربالمعروف اونهی عن المنکرپه جمع صفت دَ مدحے دے یوائے یونه کافی کیږی دویمه وجه داده چه دا واوثمانیه دے مطلب دا دے چه دَ عربوعادت دا وؤچه کله اووه څیزونه شمارکړی نودَ اتم په ابتداء کښ واؤذکرکوی ﴿وَالْحٰفِظُوْنَ لِحُدُوْدِ اللّٰهِ﴾ په دے صفت کښ اشاره ده چه پدے مخکنو کارونو کښ دَ اللّٰه تعالیٰ اودَ رسول ﷺ دَ حدودو رعایت کول ضروری دی۔ اولحاظ دَ حدودونه کول بدعت دے ﴿وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ﴾ اشاره ده چه ماقبل صفتونه بغیرد ایمان نه سبب دَ بشارت نشی کیدلے۔

[۱۱۳] هرکله چه صفات دَکمال دَ مؤمنانو دپاره ذکرشول نوپه دے ایت کښ دَ مشرکانودَ برائت کولویوخاص طریقه دَ مؤمنانودپاره ذکرکوی هغه دا ده چه پیغمبراومؤمنانوله مشرکانودپاره بخنه غوښتل منع دی اوکوم چه حدیث کښ راغلی دی رب اغفرلقومی فانّهم لایعلمون۔ نودَ هغے جواب دا دے چه هغه دَ دے ایت دَ نزول نه مخکښ وؤبل جواب دا دے چه اِغفرپه معنیٰ دَ اِهد دے ﴿مِنْۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ﴾ دَ دے مطلب دا دے چه په قرآن کریم سره معلومه شویده چه مشرك ته بخنه نه کیږی لکه په سورة نساء (۱۱۶) کښ نودے به همیشه جهنمی وی لکه په سورة مائده (۷۲) کښ اودا توجیه غوره ده ځکه مشرك ژوندی دپاره سوال دَ مغفرت منع دے هاں سوال دَ هدایت ورله جائز دے۔

عَدُوٌّ لِّلّٰهِ تَبَرَّاَ مِنْهُ ؕ اِنَّ اِبْرٰهِيْمَ لَاَوَّاهٌ حَلِيْمٌ ﴿١١٤﴾ وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُضِلَّ قَوْمًا بَعْدَ اِذْ هَدٰىهُمْ حَتّٰى
يُبَيِّنَ لَهُمْ مَّا يَتَّقُوْنَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿١١٥﴾ اِنَّ اللّٰهَ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ ؕ
وَمَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ ﴿١١٦﴾ لَقَدْ تَّابَ اللّٰهُ عَلَى النَّبِيِّ وَالْمُهٰجِرِيْنَ وَالْاَنْصَارِ الَّذِيْنَ
اتَّبَعُوْهُ فِيْ سَاعَةِ الْعُسْرَةِ مِنْۢ بَعْدِ مَا كَادَ يَزِيْغُ قُلُوْبُ فَرِيْقٍ مِّنْهُمْ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ ؕ اِنَّهٗ بِهِمْ

دُشمن دَ اللّٰه تعالیٰ دے نوجداشو دَهغه نه یقیناً ابراهیم(علیه السلام) ډیر نرم زړه اوصبر ناك وو(١١٤) اونه دے اللّٰه تعالیٰ چه گمراه (گهنگار) کړی یوقوم پس دَهغے نه چه دوی ته ئے هدایت کړے وی ترهغے چه بیان کړی دوی ته هغه څه چه ځان بچ کوی دَهغے نه یقیناً اللّٰه تعالیٰ په هرڅیز پوهه دے (١١٥) بیشکه اللّٰه تعالیٰ خاص هغه لره بادشاهی دَآسمانونو او دَزمکے ده ژوندی کول کوی اومړه کول کوی اونیشته تاسولره سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه هیڅ دوست اونه مدد گار (١١٦) یقیناً مهربانی کړے ده اللّٰه تعالیٰ (په اسانتیا راوستو) په نبی(ﷺ) اوپه مهاجرینو او انصارو هغه کسان چه تابعداری ئے کړے ده دَ دهٗ په حالت دَ تنگسیا کښ پس دَهغے نه چه نزدے وه چه کاږه شوے وے زړونه دَیوے ډلے دَ دوی نه بیا کلك والے راوستو اللّٰه تعالیٰ په دوی باندے یقیناً اللّٰه تعالیٰ په دوی باندے

[١١٤] دا جواب دے دَ یوسوال نه چه ابراهیم(علیه السلام) دَ مشرك پلاردپاره بخنه غوښتلے ده لکه سورة ابراهیم ایت(٤١) اوسورة شعراء ایت (٨٦) کښ راغلی دی۔ نودَ دے جواب اوشوچه ابراهیم(علیه السلام) هغه سره وعده کړے وه نوخپله وعده ئے پوره کړه او وعده دَ دهٗ ذکر ده په سورة مریم (٣٧) اوپه سورة ممتحنه (٤) کښ۔ بیا سوال دا دے چه هرکله هغه پلار ئے مشرك وؤ نو وعده دَ استغفار ئے ولے کوله ﴿فَلَمَّا تَبَيَّنَ﴾ دے سره اشاره اوشوه جواب ته حاصل دَ جواب دا دے چه دَ وعدے کولوپه وخت کښ دهٗ ته یقین نه وؤ راغلے چه دا کافر اومشرك دے۔ اوهرکله چه یقین ئے راغے نواستغفارغوښتل ئے پریښودو ﴿لَاَوَّاهٌ﴾ نرم والی دَ زړه ته وائي اودا متعلق دے دَ وعده کولودَ پلاره سره دَ استغفار او ﴿حَلِيْمٌ﴾ متعلق دے دَ استغفار غوختلو سره۔

[١١٥] دا جواب دَ بل سوال دے سوال دا وؤ هرکله چه استغفاردَ مشرك دپاره منع وؤ نودَ دے نه مخکښ چه چا استغفار غوختلے دے نوهغوی گنهگارشول؟ په دے ایت کښ جواب اوشوحاصل دَ جواب دا دے چه قانون دَ اللّٰه تعالیٰ دا دے چه پوره ئے یوحکم نه وی بیان کړے نودَ هغے په مخالفت کولو سره مؤمن سړے نه گمراه کیږی ځکه معصیت خووئیلے شی خلاف دَ مامور به ته او ارتکاب دَ منهی عنه نه۔ اومراد دَ لِيُضِلَّ نه حکم کول دی دَگمراهئی یاسزا ورکول دی دَگمراهئی۔

فائده: درانگ دَ ورود دَ شرعے نه وړاندے په چا باندے حکم دَگنهگارئے نه شی کیدلے۔

[١١٦] دا علت دَ مخکښ ایت دے چه قانون بیا نول دَ اللّٰه تعالیٰ اختیاردے ځکه چه بادشاهی دَ اللّٰه تعالیٰ دپاره ده۔ اوپه دے ایت کښ دعوٰی دَ توحید ده په رد دَ شرك فی التصرف سره ﴿يُحْيٖ وَيُمِيْتُ﴾ احیاء او اماتت حقیقیه مراد دے اوجائزده چه هدایت اوگمراهی ترینه اشارةً مراد شی۔

رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ﴿١١٧﴾ وَّعَلَى الثَّلٰثَةِ الَّذِيْنَ خُلِّفُوْا ؕ حَتّٰۤى اِذَا ضَاقَتْ عَلَيْهِمُ الْاَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ وَضَاقَتْ
عَلَيْهِمْ اَنْفُسُهُمْ وَظَنُّوْۤا اَنْ لَّا مَلْجَاَ مِنَ اللّٰهِ اِلَّاۤ اِلَيْهِ ؕ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ لِيَتُوْبُوْا ؕ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ التَّوَّابُ
الرَّحِيْمُ ﴿١١٨﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَكُوْنُوْا مَعَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿١١٩﴾ مَا كَانَ لِاَهْلِ الْمَدِيْنَةِ وَمَنْ ع ٩
حَوْلَهُمْ مِّنَ الْاَعْرَابِ اَنْ يَّتَخَلَّفُوْا عَنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ وَلَا يَرْغَبُوْا بِاَنْفُسِهِمْ عَنْ نَّفْسِهٖ ؕ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ لَا

شفقت کوونکے رحم کوونکے دے (۱۱۷) (اوتوبه ئے قبوله کړه) دَهغے دریو کسانو چه روستو کړے شوے وه معامله دَ دوی ترهغے پورے کله چه تنګه شوه په دوی باندے زمکه سره دَارت والی نه اوتنګ شوپه دوی باندے زړونه دَ دوی او یقین اوکړو دوی چه نیشته دے ځائے دَپناهئ دَعذاب دَ اللّٰه تعالیٰ نه مګر هغه ته دے بیاتوفیق دَ توبے ورکړو دوی لره دپاره دَ دے چه دوی توبه اوباسی یقیناً اللّٰه تعالیٰ دے توبه قبلوونکے رحم کوونکے (۱۱۸) اے ایمان والو یره کوئ دَ اللّٰه تعالیٰ نه اوشئ ملګری دَ رشتینو خلقو (۱۱۹) نه ده مناسب مدینے والو لره اوهغه چاڼره چه دَ دوی چاپیره دی دَباندِ چیانونه چه روستو پاتے شی دَرسول اللّٰه(ﷺ) نه اونه دے غوره کوی خپل ځانونه دَ هغه دَ ځان نه داحکم په دے وجه دے چه نه

[۱۱۷] په دے ایت کریمه کښ زیرے دے مؤمنانوته په قبولیت دَ توبے اوپه دے ایت کښ اشاره ده تکالیفوته په غزوه دَ تبوك کښ چه ګرمی سخته وه سفراو ګدوؤ اوپه سَوَرلو باندے هم نمبرپه نمبرتلل وؤ اوتوخه دَ دوی زړے کهجورے وے بیا دَ توبے نه مراد په دے ایت کښ تخفیف اواسانتیا راوستل دی په اول تَابَ کښ او زړونه کلکول دی په دویم تاب کښ۔ په دے کښ اشاره ده چه نبی هم توبے ته محتاج دے لیکن دَ هغه توبه دَ ګناه نه نه ده بلکه اسانتیا راوستل مراد دی ﴿يَزِيْغُ﴾ مراد دَ زیغ نه ترك دَ جهاد دے ارتداد نه دے مراد۔

[۱۱۸] په دے ایت کښ زیرے دے دَ قبولیت دَ توبے دَ هغه دریو کسانو چه په ایت (۱۰۶) کښ تیرشویدی ﴿خُلِّفُوْا﴾ دَ کعب ﷺ نه روایت دے چه مراد دَ دے نه روستو والے دَ حکم دَ دوی دے روستووالے دَ جهاد نه مراد نه دے ځکه هغه صفت دَ منافقانودے ﴿ضَاقَتْ عَلَيْهِمُ الْاَرْضُ﴾دَ دے وجے نه چه دَ دوی سره صحابه کرامومعامله پریښودله وه اوخبرے ئے ورسره نه کولے په حکم دَ نبی ﷺ سره ﴿وَضَاقَتْ عَلَيْهِمْ اَنْفُسُهُمْ﴾ دا دَ دے وجے نه چه ملګری به کله دوی سره مخامخ شول نو سخته وینا به ئے ورته کوله بل داچه په دوی باندے په زړونودَ دوی کښ ډیرغم او فکر راغلے وؤ۔ ابوبکر وراق نه روایت دے چه توبة نصوح علامت دا دے چه دَ ګناه دَ وجے نه په انسان باندے دغسے حالت راشی ﴿حَتّٰۤى اِذَا﴾ داغایه ده دَ خُلِّفُوْا دپاره اوثم تاب عطف دے په اذا ضاقت باندے۔

[۱۱۹] دا ترغیب دے جهاد ته اومنع ده دَپاتے کیدلودَ جهاد نه پس دَ ذکرد پاتے کیدونکونه، اوترغیب دے په ملګرتیا دَ مجاهدینواودَ رشتینوخلقو۔ اوپه دے ایت کښ دوه امرونه دی اول کښ اصلاح دَ نفس انفرادی مراد ده په تقویٰ سره اوپه دویم کښ اصلاح اجتماعی مراد ده یعنی دَ صادقینو ملګرتیا اختیارول۔

يُصِيْبُهُمْ ظَمَاٌ وَّلَا نَصَبٌ وَّلَا مَخْمَصَةٌ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَلَا يَطَئُوْنَ مَوْطِئًا يَّغِيْظُ الْكُفَّارَ وَلَا يَنَالُوْنَ
مِنْ عَدُوٍّ نَّيْلًا اِلَّا كُتِبَ لَهُمْ بِهٖ عَمَلٌ صَالِحٌ ۭ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُضِيْعُ اَجْرَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿١٢٠﴾ وَلَا يُنْفِقُوْنَ نَفَقَةً
صَغِيْرَةً وَّلَا كَبِيْرَةً وَّلَا يَقْطَعُوْنَ وَادِيًا اِلَّا كُتِبَ لَهُمْ لِيَجْزِيَهُمُ اللّٰهُ اَحْسَنَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿١٢١﴾ وَمَا
كَانَ الْمُؤْمِنُوْنَ لِيَنْفِرُوْا كَاۗفَّةً ۭ فَلَوْلَا نَفَرَ مِنْ كُلِّ فِرْقَةٍ مِّنْهُمْ طَاۗىِٕفَةٌ لِّيَتَفَقَّهُوْا فِي الدِّيْنِ وَلِيُنْذِرُوْا
قَوْمَهُمْ اِذَا رَجَعُوْٓا اِلَيْهِمْ لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُوْنَ ﴿١٢٢﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قَاتِلُوا الَّذِيْنَ يَلُوْنَكُمْ مِّنَ

رسی دوی ته تنده اونه سترے والے اونه لوګه په لار دَ اللّٰه تعالیٰ کښ اونه ګرځی دوی په یولارے چه غصه کوی کافرانو لره اونه حاصلوی دوی دَ دُشمن نه څه شے مګر لیکلے کیږی دوی لره په بدله دَهغے عمل نیك بیشکه اللّٰه تعالیٰ نه برباد وی ثواب دَځائسته عمل کوونکو (۱۲۰) اونه خرچ کوی دوی څه خرچ لږاونه ډیر اونه سفر کوی دوی په یومیدان مګر لیکلے کیږی دوی لره دے دپاره چه بدله به ورکړی دوی لره اللّٰه تعالیٰ ډیره ځائسته دَهغے عملونونه چه دوی ئے کوی (۱۲۱) اونه ده مناسب چه مؤمنان دِ اوځی ټول (دَجهاد یا دَعلم دپاره) پس ولے نه اوځی دَهرے ډلے دَ دوی نه څه کسان دے دپاره چه پوهه حاصل کړی په دین کښ اوچه یره ورکړی دوی قوم خپل ته (په بیان دَ دغه علم) کله چه هغوی واپس شی دوی ته دے دپاره چه هغوی ځان بچ کړی دَ ګناهونونه (۱۲۲) اے ایمان والو جنګ کوئ دَهغے کسانو سره چه نیزدے دی تاسوته دَ

[۱۲۰] په دے ایت کښ ترغیب دے جهاد ته یوپه دے طریقه چه رسول اللّٰهﷺ جهادکوی اوپه خپل نفس تکلیف تیروی نو تاسوولے نه کوئے او ولے ځان له تکلیف نه ورکوئے بله طریقه دا ده چه په جهادکښ هریوتکلیف تیرول سبب دَ ثواب دے ﴿وَلَا يَطَئُوْنَ مَوْطِئًا﴾ مطلب دادے چه کله مؤمنان مجاهدین په زمکه ګرځی اوکافران ورته ګوری اوغصه کیږی دا هم ثواب دے ﴿وَلَا يَنَالُوْنَ﴾ مراد دَ دے نه دادے چه کافران قتل کول یا هغوی له شکست ورکول یا دَ هغوی نه غنیمت حاصلول دا ټول ثوابونه دی﴿اَنْ يَّتَخَلَّفُوْا﴾دَ هغه دَ حکم نه یا دَ هغه په ملګرتیا کښ دَ جهادکولونه خلاف کول﴿بِاَنْفُسِهِمْ﴾ یعنی نبی ﷺ ډیرمصیبتونه اوتکلیفونه بدنی په جهاد کښ په ځان باندے تیروی نوتاسودَ هغه نه غوره نه ئے نو تاسومصیبتونه دَ جهاد تیرکړئے۔

[۱۲۱] په دے ایت کښ هم نورعملونه دَ مجاهد ذکردی چه په هغے سره هغه ته ثواب حاصلیږی اودا عملونه پخپله عبادات دی دَ دے وجے نه دَ دے سره بِهٖ عَمَلٌ صَالِحٌ نه دے ذکرکړے اومحکنی پخپله نیك اعمال نه وو لیکن دَ جهاد دَ وجے نه ثواب دَ نیك عمل ورباندے ورکولے کیږی او دَ دے وجے نه په هغه ایت کښ مُحسِنِین ذکرکړو یعنی دغه عملونه دَ احسان دَ وجے نه صالح ګرځی اوپدیکښ ﴿اَحْسَنَ﴾ ذکرکړواشاره ده چه دا عملونه په خپله احسن دی ﴿وَلَا يَقْطَعُوْنَ وَادِيًا﴾ مراد دَ دینه سفرکول دی په نیت دَ جهاد سره۔ وَادِیٌ: په اصل کښ هغه فراخ ځائے دے چه په مینځ دَ غرونو اوډیرکو کښ وی چونکه هغه کنده (دره) هم ده او میدان هم دے نودَ وادی اطلاق په دواړو کیږی۔

[۱۲۲] په دے ایت کښ ترغیب دے علم دَ دین ته دپاره دَ تکمیل دَ جهاد یعنی دَ جهاد دپاره محکښ دَ

الْكُفَّارِ وَلْيَجِدُوْا فِيْكُمْ غِلْظَةً ۭ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ مَعَ الْمُتَّقِيْنَ ﴿١٢٣﴾ وَاِذَا مَآ اُنْزِلَتْ سُوْرَةٌ فَمِنْهُمْ مَّنْ
يَّقُوْلُ اَيُّكُمْ زَادَتْهُ هٰذِهٖٓ اِيْمَانًا ۚ فَاَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا فَزَادَتْهُمْ اِيْمَانًا وَّهُمْ يَسْتَبْشِرُوْنَ ﴿١٢٤﴾ وَاَمَّا
الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ فَزَادَتْهُمْ رِجْسًا اِلٰى رِجْسِهِمْ وَمَاتُوْا وَهُمْ كٰفِرُوْنَ ﴿١٢٥﴾ اَوَلَا يَرَوْنَ

کافرانونه او اودے مومی هغوی په تاسوکښ کلکوالے اوپوهه شئے یقیناً اللّٰه تعالیٰ خاص ملګرے دَمتقیانو دے (۱۲۳) او کله چه نازل کړیشی یوسورة پس بعضے دَ دے خلقو هغه څوك دی چه وائی چه چاله زیاتی کړو دے سورة ایمان پس هرچه هغه کسان دی چه ایمان ئے راوړیدے پس زیات ئے کړو هغوی لره دے ایمان اوهغوی خوشحالی کوی(دَ دے سورة په نازلیدلو) (۱۲٤) او هرچه هغه کسان دی چه په زړونو کښ ئے مرض دَ نفاق دے پس زیاتوی داسورة هغوی لره پلیتی دَ هغوی دَ پلیتئ سره اومړه کیږی دوی په داسے حال کښ چه کافروی(۱۲۵) آیا دوی سوچ نکوی

هغے نه علم دَ دین ضروری دے۔ حاصل دَ ایت دا دے چه ټول کسان جهاد له مه اوزئے (کله چه جهاد فرض کفائي وی) بلکه بعض کسان جهاد له اوځئے اوبعض کسان دَ علم دَ دین دپاره ځان وقف کړئ نودا ایت دلیل دے په دے خبره چه علم دَ دین ټول فرض کفائی دے اوعلم دَ هغے احکاموچه فرض عین وی هم فرض عین دے۔

فائده: په ایت کښ توجیهات دی اوله دا چه لِيَنْفِرُوا نه مراد وتل دی دَ جهاد دپاره ځکه چه محکمین ایاتونو کښ ترغیب دَ جهاد ذکرشو ﴿طَآئِفَةٌ﴾ دَ دے نه مراد طائفه دَ مجاهدینوده او ﴿لِيَتَفَقَّهُوْا﴾ ضمیر دغه طائفے ته راجع دے په دے شرط سره چه نبی ﷺ ورسره وی نودَ هغه نه دین ایزده کوی اودا په زمانه دَ نبی پورے خاص نه دے۔ دویمه توجیه دا ده چه ﴿لِيَنْفِرُوْا﴾ نه مراد وتل دَ طلب دَ علم دپاره دی اوطائفه نه مراد طلب ګاردَ علم دی ﴿لِيَتَفَقَّهُوْا فِي الدِّيْنِ﴾ مراد دَ دین نه کتاب اللّٰه اوسنت دے او تفقه نه مراد داسے علم دے چه په هغے سره دَ حکمتونواودَ حکمونواستنباط کیدیشی اوپه حدیث کښ وارد دی۔ مَنْ يُّرِدِ اللّٰهُ بِهٖ خَيْرًا يُّفَقِّهْهُ فِي الدِّيْنِ ﴿وَلِيُنْذِرُوْا﴾ مراد دَ انذارنه تبلیغ دَ قرآن اوسنت دے نودَ هغے په منلوسره اوعمل کولوسره تقلید نه لازمیږی ځکه چه دا علم دے په دلیلونوسره اوتقلید خوخبره منل بغیرد دلیل نه دی۔

[۱۲۳] په دے ایت کښ هم حکم دَ قتال دے اوتعلیم دَ طریقے دَ جهاد دے چه دَ نیزدے نه دِ شروع کیدے شی او ﴿غِلْظَةً﴾ په معنیٰ دَ کلکوالی اودَ غیرت دے۔

[۱۲٤] هرکله چه تر دے ځائے پورے دَ دے سورة تفصیلی احکام ذکر شول اوخصوصاً مسئله دَ جهاد نوپدے ایت کښ رد او زجردے په منافقینوباندے کله چه هغه سورة نازل شوچه په هغے کښ مسئله دَ جهاد وه نومنافقانواعتراض کوؤ چه دَ دے دَ نازلیدلوځه فائده ده نوجواب اوشوچه په دے سره دَ مؤمنانوایمان زیاتی کیږی ځکه چه هغوی په دے باندے عمل کوی ﴿فَزَادَتْهُمْ اِيْمَانًا﴾ مجاهد نه نقل دی چه دا ایت دلیل دے چه ایمان زیادت قبلوی یعنی ایمان کښ زیاتے راځی که په درجه دَ نفسِ تصدیق اویقین کښ وی اوکه اعمالوسره وی۔

[۱۲۵] دا بیان دَ حال دَ منافقینو دے چه حکم دَ قتال چه کله نازل شی نومنافقان دَ هغے نه خلاف کوی

أَنَّهُمْ يُفْتَنُوْنَ فِيْ كُلِّ عَامٍ مَّرَّةً أَوْ مَرَّتَيْنِ ثُمَّ لَا يَتُوْبُوْنَ وَلَا هُمْ يَذَّكَّرُوْنَ ﴿١٢٦﴾ وَإِذَا مَا أُنْزِلَتْ سُوْرَةٌ
نَّظَرَ بَعْضُهُمْ إِلٰى بَعْضٍ ط هَلْ يَرٰىكُمْ مِّنْ أَحَدٍ ثُمَّ انْصَرَفُوْا ط صَرَفَ اللّٰهُ قُلُوْبَهُمْ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا
يَفْقَهُوْنَ ﴿١٢٧﴾ لَقَدْ جَآءَكُمْ رَسُوْلٌ مِّنْ أَنْفُسِكُمْ عَزِيْزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيْصٌ عَلَيْكُمْ بِالْمُؤْمِنِيْنَ رَءُوْفٌ
رَّحِيْمٌ ﴿١٢٨﴾ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَقُلْ حَسْبِيَ اللّٰهُ ق لَآ إِلٰهَ إِلَّا هُوَ ط عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ ﴿١٢٩﴾ ع ١٦

چه یقیناً په دوی باندے امتحان راځی په هرکال کښ یوځل یادوه ځله بیا دوی نه توبه کوی اونه دوی نصیحت قبلوی (١٢٦) اوکله چه نازل کړے شی یو سورة نوګوری بعضے دَ دوی نه بعضو ته (اشاره کوی یوبل ته په سترګو) آیاوینی تاسو لره څوك بیا اوګرځی دَ مجلس ستاسونه اودے ګرځوی اللّٰه تعالیٰ زړونه دَ دوی دَحق نه په دے وجه چه داقوم دے چه نه پوهیږی (١٢٧) یقیناً راغلے دے تاسوته رسول(ﷺ) چه ستاسو دَجنس نه دے ګران دے په هغه باندے تکلیف ستاسو حرص کوونکے دے ستاسوپه ایمان راوړلو (خاص په مؤمنانو باندے) ډیرمینه کوونکے رحم کوونکے دے (١٢٨) پس که دوی مخ واړو پس اُوایه پوره دے ماله اللّٰه تعالیٰ نیشته هیڅ څوك مددګار سیوا دَهغه نه په هغه باندے ماځان سپارلے دے اوهغه مالك دَعرش لوئے دے (١٢٩)

اوسستی کوی نودَ هغوی پلیت والے نور زیات شی اودَ دے زیادت ذکرپه سورة مائده (٦٤،٤٨) اواسراء (٨٢) کښ هم شته اورجس دَ منافقت په دے سورة (٩٥) کښ ذکردے۔

[١٢٦] دے کښ زورنه ده منافقینوته چه په دوی باندے هرکال امتحان راځی په فرض کولودَ جهاد سره یوځل یا دوه ځله لیکن دوی دَ منافقت نه توبه نه اوباسي یعنی سرهٔ دَ وجود دَ سبب دَ توبے نه دوی توبه نه اوباسي نودا علت دے دَ ﴿مَاتُوْا وَهُمْ كَافِرُوْنَ ۔ مَرَّةً أَوْ مَرَّتَيْنِ﴾ یعنی غزاګانے به هرکال یو یا دوه ځله واقع کیدلے ﴿يَذَّكَّرُوْنَ﴾ توبه دَ افتتان سره تعلق لری اوتذکر دَ اوریدلودَ قرآن سره تعلق لری۔

[١٢٧] په دے کښ هم بیان دَ حال دَ منافقینودے په هغه وخت کښ چه بیان شی سورة دَ جهاد اوذکردَ قبائحودَ منافقانو لکه دا سورة نو دوی دَ هغے مجلس نه دَ تیښتے کوشش کوی ﴿هَلْ يَرٰىكُمْ﴾ دلته یشیرون پټ دے یعنی په سترګودَ یوبل نه په اشاروسره تپوس کوی چه صحابه کرام مونږته ګوری اوکه نه۔ لیکن صحابه کراموبه دَ نبی ﷺ په مجلس کښ سرونه ښکته کړی وؤ لکه چه په سرونو باندے ئے مارغان ناست وی نومنافقان پوهه شی چه دوی مونږته نه ګوری دَ ثُمَّ انصرفوا نه مخکښ دا عبارت پټ دے۔ ﴿لَا يَفْقَهُوْنَ﴾ دا صفت دَ دوی په (٨١) او(٨٧) کښ تیرشویدے۔

[١٢٨] دا بیان دَ صدق دَ رسول اللّٰه ﷺ دے اودَ نبی ﷺ شپږ صفات پکښ ذکر دی۔ اول صفت ﴿رَسُوْلٌ﴾ اشاره ده چه دے دَځان نه خبرے نه جوړ وی نودَ دهٔ اتباع فرض ده۔ دویم ﴿مِنْ أَنْفُسِكُمْ﴾ پدے کښ اشاره ده اسانتیا دَ حصول دَ علم ته دَ هغه نه ځکه دَ هم جنس نه استفاده کیدلے شی۔ دریم ﴿عَزِيْزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ﴾ یعنی تاسوته چه کوم شے تکلیف درکوی نودَ هغے بوج په هغه باندے وی او هغه پرے خفه کیږی ۔ په دے کښ اشاره ده دیته چه دَ هغه په طریقه کښ په اُمت باندے اسانتیا ده۔ څلورم ﴿حَرِيْصٌ عَلَيْكُمْ﴾ مطلب دا دے چه هغه کوشش کوی دَ دے خبرے چه تاسومؤمنان شئے اوجنت ته داخل شئے۔

پنځم ﴿رَءُوفٌ﴾ په مؤمنانوباندے ډیر شفقت کوونکے دے اوستاسودَ حفاظت دُعاکانے غواړی۔ اوشپږم ﴿رَحِيمٌ﴾ په مؤمنانو رحم کوونکے دے په دے دواړوکښ اشاره ده دے خبرے ته چه هغه به په اخرت کښ دَ مؤمنانودپاره شفاعت کوی اوپه دُنیا کښ هم دَ هغه دَ شفقت او رحمت ډیرے واقعے موجود دی۔

[١٢٩] په دے ایت کښ بیان دَ مسئلے دَ توحید دے په څلورو جملوسره اوله جمله په مقابله دَ منکرینوکښ وئیلے کیږی دلته هم کافرانودَ ټولو قسمونو اودَ منافقانودَ خبائثوپه مقابله کښ ذکرده۔ دویمه جمله علت دَ اولے دے اودریمه تفریع ده په اول دواړوجملو باندے اوڅلورمه علت دے دَ ما قبل دپاره او ربوبیت دَ عرش مستلزم دے ربوبیت دَ ټول عالم لره۔

سُوْرَةُ يُوْنُس (١٠) مَكِّيَّةٌ (الا) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ١٠٩ رُكُوْعَاتُهَا ١١

الٓرٰ ۚ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْحَكِيْمِ ۝١ اَكَانَ لِلنَّاسِ عَجَبًا اَنْ اَوْحَيْنَآ اِلٰى رَجُلٍ مِّنْهُمْ اَنْ اَنْذِرِ النَّاسَ وَبَشِّرِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنَّ لَهُمْ قَدَمَ صِدْقٍ عِنْدَ رَبِّهِمْ ۭ قَالَ الْكٰفِرُوْنَ اِنَّ هٰذَا لَسٰحِرٌ مُّبِيْنٌ ۝٢ اِنَّ

الٓرٰ داآیتونه دی دَ داسے کتاب چه حکمتونو والادے(۱) آیادے خلقو لره تعجب دے په دے خبره چه وحی کړیده مونږ یو سړی ته دَ دوینه چه اویره وه خلق (نه منونکی) اوزیږے ورکړه ایمان والو لره یقیناً دَ دوی دپاره مرتبه اوچته ده په نیز دَرب دَ دوی وائی کافران بیشکه دے خامخا جادوګر ښکاره دے(۲) یقیناً

سورة یونس

ربط: دا دے چه محکمیں سورتونو(سورة الانفال اوسورة التوبه)کښ دَ مشرکانو سره دَ جنګ کولواعلان وؤ نوپه دے سورة کښ دَ شرك حقیقت بیانوی چه سبب دَ قتال دے اوجواب دَ سوال دے که هغوی او وائی چه مونږسره جنګ په څه سبب کوئ مونږخواللّٰه تعالیٰ منونودے سورة کښ جواب ورکوی چه تاسودَ اللّٰه تعالیٰ سره شریکان جوړکړی دی په عقیده دَ شفاعت قهریه سره اودا عقیده شرك اوکفردے۔ اودارنګ هرکله چه سورة توبه کښ شرك دَ مشرکانواودَکتابیانو اونفاق دَ منافقینو ذکرکړے شونوپه دے سورة کښ هغه ټولوته دعوت ورکول دی دَ توحید اودَ رسالت اودَ قرآن اودَ ایمان بالاخرت۔

دعویٰ دَ دے سورة: رد دَ شفاعت قهریه په (۳) او(۱۸)کښ اودغه رد په ډیرو وجوهوسره دے اول په عقلی دلیلونوسره دویمه وجه په ډیرعقلی دلیلونوسره۔ دریمه وجه په نقلی دلیلونوسره۔ څلورمه وجه په ډیروزجرونوسره۔ پنځمه وجه قباحتونه دَ مشرکا نو۔ شپږمه وجه اقرارد مشرکانوپه بعضِ صفتونودَ اللّٰه تعالیٰ سره دَ دُعا دَ هغوی دَ اللّٰه تعالیٰ نه په حالت دَ سختئے کښ۔

خلاصه دَ دے سورة: دے کښ درے حصے دی اوله حصه (٥٤) آیت پورے۔ دویمه حصه (٧٠) آیت پورے دریمه ترآخر پورے۔ په اوله حصه کښ درے بابونه دی اول باب (١٧) آیت پورے دے په دے کښ ترغیب دے کتاب اللّٰه ته او شپږ زورنے دی او درے عقلی دلیلونه دی اوبشارت دے منونکو ته او تخویف دنیوی او اُخروی نه منونکوته۔

تفسیر

[١] اول ایت کښ ترغیب دے قرآن ته ﴿الْحَكِيْمِ﴾ په معنیٰ دَ (حکمتونووالا) دویم په معنیٰ دَ حاکم دریم په معنیٰ دَ محکم او لفظ دَ حکیم اشاره ده دے ته چه په دے سورة کښ عقلی دلیلونه بیانیږی اوهغه حکمت دے۔

[٢] دا زورنه ده منکرینودَ رسولﷺ ته چه هغوی دَ نبیﷺ نه انکار کوؤ په دے وجه چه دے سړے دے او بشر دے او دا آیت دلیل دے په دے خبره باندے چه نبیﷺ سړے وؤ دَ جنس دَ بشرنه اودَ هغه ئے دوه کارونه ذکرکړی دی یویره ورکول اودویم زیږے ورکول ﴿قَدَمَ صِدْقٍ﴾ یومعنیٰ دَ دے مرتبه اوچته، دویمه معنیٰ

رَبَّكُمُ اللّٰهُ الَّذِیْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ فِیْ سِتَّةِ اَیَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰی عَلَی الْعَرْشِ یُدَبِّرُ الْاَمْرَ ؕ مَا مِنْ شَفِیْعٍ اِلَّا مِنْۢ بَعْدِ اِذْنِهٖ ؕ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْهُ ؕ اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ۝۳ اِلَیْهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِیْعًا ؕ وَعْدَ اللّٰهِ حَقًّا ؕ اِنَّهٗ یَبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ یُعِیْدُهٗ لِیَجْزِیَ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ بِالْقِسْطِ ؕ وَالَّذِیْنَ كَفَرُوْا لَهُمْ شَرَابٌ مِّنْ حَمِیْمٍ وَّعَذَابٌ اَلِیْمٌۢ بِمَا كَانُوْا یَكْفُرُوْنَ ۝۴ هُوَ الَّذِیْ جَعَلَ الشَّمْسَ ضِیَآءً وَّالْقَمَرَ

رب ستاسو اللّٰه تعالیٰ دے هغه ذات چه پیدا کړی ئے دی آسمانونه اوزمکه په اندازه دَشپږو ورځو کښ بیا برابر شوے دے په عرش باندے (دَخپل شان مناسب) انتظام کوی دَټولو کارونو نیشته هیڅ سفارش کوونکے مګر پس دَهغهٔ دَ اجازت نه دا صفتونو والا اللّٰه تعالیٰ رب ستاسودے پس بندګی کوئ هغه لره آیا پس نهٔ اخلئ نصیحت تاسو(۳) خاص هغه ته ګرځیدل ستاسو دَټولو دی وعده کړیده اللّٰه تعالیٰ وعده حقه یقیناً هغه اول پیدا کوی مخلوق بیابه دوباره پیدا کوی هغه دے دپاره چه بدله ورکړی هغه کسانوته چه ایمان ئے راوړے دے اوعملونه ئے کړی دی نیك په انصاف سره اوهغه کسان چه کفرئے کړے دے دوی لره څکل دی دَ یشیدلو اوبونه اوعذاب درد ناك دے په سبب دَهغے چه دوی کفر کوی (٤) خاص اللّٰه تعالیٰ هغه ذات دے چه ګرځولے ئے دے نمر ډیرے رنړا والا اوسپوږمئ

خائسته اجرپه سبب دَ نیکوعملونوچه مخکښ ئے لیږلی اوتعبیرئے په قدم سره دَ دے وجے نه کړے دے چه سعی اوکوششونه په قدم سره کیدلے شی۔ بیا زورنه ده په دے خبره چه دوی نبی ﷺ ته ساحر وئیلو ﴿اَنْذِرِ﴾ انذار وئیلے شی اخبارسرهٔ دَتخویف نه او ﴿بَشِّرِ﴾ بشارت وئیلے شی اخبارسرهٔ دَ خوشحالئ نه۔

[۳] دا بیان دَ وحی دِے چه انا اوحینا کښ ذکر ده اودلیل عقلی دے په توحید باندے اوپه دے ایت کښ رد دَ شفاعت قهری دے اوپه هغے باندے تفریع ده په لفظ دَ فَاعْبُدُوْهُ ﴿اِنَّ رَبَّكُمُ﴾ په دے کښ اثبات دَ توحید دَ ربوبیت دے اودلته رب په معنیٰ دَ حاجات پوره کوؤنکی یاپه معنیٰ دَ حقدار دَ بندګئے دے ﴿اللّٰهُ الَّذِیْ﴾ پدیکښ ذکر دَ معرفت دَ اللّٰه تعالیٰ دے په درے صفتونو سره،(۱) خالق دے(۲) دَعرش دپاسه دے(۳) تدبیر کوؤنکے دے معنیٰ دَ سِتَّةِ اَیَّام او اِستَوٰی عَلَی العَرش تفسیرپه سورة اعراف کښ ذکرشویدے ﴿الْاَمْرَ﴾ الف لام دپاره دَ استغراق دے یعنی ټول ځیزونه اوکارونه یعنی دا انتظام ئے هیڅ قطب او غوث وغیره ته سپارلے نه دے ﴿مَامِنْ شَفِیْعٍ﴾ دا رد دے په عقیده دَ مشرکانوباندے چه هغوی وائی چه مونږخپل معبودان خالق اومدبرنه ګنړولیکن سفارشیان ئے ګنړو ﴿فَاعْبُدُوْهُ﴾ په دے کښ رد دے په شرك فی العبادة باندے۔

[٤] دَ تذکیردَ توحید نه روستوپه دے ایت کښ اثبات دَ اخرت دے په درے جملو کښ اوبیا زیرے دے مؤمنانوته اویره اُخروی ده دپاره دَکافرانواودا ایت بیان دَ انذار او بشردے ﴿لِیَجْزِیَ﴾ لام متعلق دے مرجعکم یا دَ یعیده سره اودا حکمت دَ بعث بعد الموت دے ﴿بِالْقِسْطِ﴾ دامتعلق دے دَ یَجزِی سره اوقسط صفت دَ اللّٰه تعالیٰ دے یعنی جزاء دَمؤمنانوپه عدل سره ورکوی یا قسط صفت دَ مؤمنانودے یعنی توحید اونیك اعمال دَ دوی سبب دَ جزاء دے نوباسببیه ده ﴿مِنْ حَمِیْمٍ﴾ په مِن سره اشاره چه دایو نوعه ده دَ مشروب اودَ دے نه علاوه نورمشروبات هم شته دے ﴿بِمَا كَانُوْا یَكْفُرُوْنَ﴾ دا مقابل دے دَ بالقسط سره په دویمه معنیٰ سره۔

نُوْرًا وَّ قَدَّرَهٗ مَنَازِلَ لِتَعْلَمُوْا عَدَدَ السِّنِيْنَ وَ الْحِسَابَ ؕ مَا خَلَقَ اللّٰهُ ذٰلِكَ اِلَّا بِالْحَقِّ ۚ يُفَصِّلُ
الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ۝٥ اِنَّ فِي اخْتِلَافِ الَّيْلِ وَ النَّهَارِ وَ مَا خَلَقَ اللّٰهُ فِي السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ لَاٰيٰتٍ
لِّقَوْمٍ يَّتَّقُوْنَ ۝٦ اِنَّ الَّذِيْنَ لَا يَرْجُوْنَ لِقَآءَنَا وَ رَضُوْا بِالْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَ اطْمَاَنُّوْا بِهَا وَ الَّذِيْنَ هُمْ عَنْ اٰيٰتِنَا
غٰفِلُوْنَ ۝٧ اُولٰٓئِكَ مَاْوٰىهُمُ النَّارُ بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ۝٨ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ يَهْدِيْهِمْ رَبُّهُمْ

لړے رنړا والا اومقرر کړی ئے دی دَ هر یو دپاره منزلونه دے دپاره چه معلوم کړئے تاسو شمار دَکلونو اوحساب (دَمیاشتو او ورځو) نه دی پیداکړی اللّٰه تعالیٰ داځیزونه مګر دَحق سکاره کولو دپاره تفصیلی بیانوی دلیلونه هغے قوم لره چه پوهیږی(٥) یقیناً په تلو راتلو دَشپه او دَورځ کښ اوپه هغه ځیزونو کښ چه پیدا کړیدی اللّٰه تعالیٰ په آسمانونو او په زمکه کښ خامخا ډیر دلیلونه دی هغے قوم دپاره چه یریږی دَ اللّٰه تعالیٰ نه (٦) یقیناً هغه کسان چه نه لری عقیده دَملاقات ځمونږ او رضا شوی دی په ژوند دُنیوی اوخوشحالیږی په دے دُنیا سره اوهغه کسان چه دوی زمونږ دَآیاتونونه بے پرواه دی (٧) دغه کسان ځائے دَ دوئ اُور دے په وجه دَهغه عملونو چه دوئ ئے کوی (٨) یقیناً هغه کسان چه ایمان ئے راوړیدے او عمل کوی په طریقه دَپیغمبر اوبه رسوی دوی لره جنت ته رب دَ دوی

[٥] دا دویم دلیل عقلی دے دپاره دَ توحید دَ رنړا یوعرض (کیفیت) خاصه دے نواصل دَ دغه کیفیت ته نور وئیلے شی اوچه دا کیفیت کامل او قوی وی نوهغے ته ضیاء وئیلے شی ﴿وَقَدَّرَهٗ مَنَازِلَ﴾ مراد دَ دے نه منزلونه دَ نمر اودَ سپوږمئی دواړو دی او دویم قول غوره دے په قرینه دَ سورة یٰس (٣٩) اوپه دغه منازلودَ قمر سره ورځے اوشرعی میاشتے معلومیږی اودا اته ویشت دی اومراد دَ منزلونونه ځایونه دَ راختلواودَ پریوتلودَ هغے دی ﴿عَدَدَ السِّنِيْنَ﴾ یعنی وخت دَ شروع کیدلو او ختم کیدلودَکال ﴿وَالْحِسَابَ﴾ مراد دَ دے نه حساب دَ میاشتواودَ ورځودے ﴿مَا خَلَقَ اللّٰهُ ذٰلِكَ اِلَّا بِالْحَقِّ﴾ حق نه مراد ظاهرول دَ مسئلے دَ توحید اودلیل په قدرت اوپه عِلم دَ اللّٰه تعالیٰ دے، اوداسے تفسیرخازن کښ لیکلی دی پس دا ایت دلیل دے په دے خبره چه حدیث دَ لولاك لکه چه مشهور دے په ژبودَ خلقو دَ هغے معنیٰ هم صحیح نده لکه چه الفاظ ئے محدثینو ردکړی دی الفوائد لمجموعة صفحه (٣٢٦) کشف الخفاء صفحه(١٤٦) دواړو دَ صنعانی نه نقل کړیدے چه دا حدیث موضوعی دے هاں که دا معنیٰ اوکړیشی چه نه وے ستالیږل دپاره دَ اظهار دَ مسئلے دَ توحید نوبیا څه وجه دَ صحت لری په اعتباردَ معنیٰ سره لیکن دا توحیه ډیره بعیده ده۔

[٦] دا دریم عقلی دلیل دے ﴿اِخْتِلَافِ الَّيْلِ﴾ یوبل پسے راتلل او داسے رنګونه دَ دوی بدلیدل ﴿لِقَوْمٍ يَّتَّقُوْنَ﴾ مراد دَ دے نه توحید والادی ځکه څوك چه شرك کوی نو هغه دلیل نه نیسی دَ دے مخلوقاتو نه۔

[٧] په دے آیت کښ زورنه ده منکرینو ته اودَ هغوی ځلورصفتونه ئے ذکرکړیدی ﴿لَا يَرْجُوْنَ﴾ رجاء په معنیٰ دَ یره او په معنیٰ دَ امید اوپه معنیٰ دَ عقیدے سره دے دلته آخری معنیٰ مراد ده ﴿وَرَضُوْا بِالْحَيٰوةِ الدُّنْيَا﴾ معنیٰ دا ده چه راضی شویدی دوی په ژوند دُنیوی سره په عوض دَ آخرت کښ پس عمل کوی د پاره دَ دُنیا ﴿وَاطْمَاَنُّوْا بِهَا﴾ اطمینان په دُنیا سره نه حاصلیږی نو مراد دَ دے نه خوشحالیدل اودَ هغے په محبت کښ پاځه کیدل دی ﴿غٰفِلُوْنَ﴾ غفلت په معنیٰ دَ جهل اودَ سادګئے سره مراد نه دے بلکه بے پرواهی

بِاِيْمَانِهِمْ ۚ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهِمُ الْاَنْهٰرُ فِيْ جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ۝٩ دَعْوٰىهُمْ فِيْهَا سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ وَتَحِيَّتُهُمْ
فِيْهَا سَلٰمٌ ۚ وَاٰخِرُ دَعْوٰىهُمْ اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝١٠ وَلَوْ يُعَجِّلُ اللّٰهُ لِلنَّاسِ الشَّرَّ اسْتِعْجَالَهُمْ ع
بِالْخَيْرِ لَقُضِيَ اِلَيْهِمْ اَجَلُهُمْ ۭ فَنَذَرُ الَّذِيْنَ لَا يَرْجُوْنَ لِقَاۗءَنَا فِيْ طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُوْنَ ۝١١ وَاِذَا مَسَّ
الْاِنْسَانَ الضُّرُّ دَعَانَا لِجَنْۢبِهٖٓ اَوْ قَاعِدًا اَوْ قَاۗىِٕمًا ۚ فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُ ضُرَّهٗ مَرَّ كَاَنْ لَّمْ يَدْعُنَآ اِلٰى

په سبب دَ ایمان دَ دوی چه بهیږی به لاندے دَبنګلو دَ دے نه ولے اوسی به په جنتونو دَ نعمتونو کښ(۹) بلنه د دوی به په دے جنت کښ داوی چه پاکی ده تاله اے اللّٰه تعالیٰ اوپیشکشی دَ دوی به په جنت کښ سلام وی او آخری بلنه به دَ دوی دا وی چه ټول صفتونه دَخدائیتوب دَ یو اللّٰه تعالیٰ دی چه رب دَ عالمینو دے (۱۰) اوکه زررسولے اللّٰه تعالیٰ خلقوته تکلیف (په وجه دَغوښتلو دَ دوی) پشانتے دَ زر غوښتلو دَ دوی خیرلره (چه هغه زر قبلوی) خامخا پوره شوے به وے دَ دوی نیتے پس پریږدو مونږ هغه کسان چه نه لری عقیده دَملاقات زمونږ په سرکشئ دَ دوی کښ ګډوډ به وی(۱۱) اوهرکله چه اورسی یوانسان ته تکلیف نوبلی مونږ په ډډه خپله یاپه ناستے یاپه وَلاړے پس هرکله چه لرے کومونږ دَ دهٗ نه تکلیف دَ دهٗ نوروان شی په شرك خپل ګویاکښ بلنه ئے نه وه کړے څمونږ نه هغه

او اعراض کول مراد دی او ایات نه مراد دلیلونه دَ توحید یا قرآن دے۔

[۸] دا یره اُخروی ده دپاره دَ منکرینو اودا خبر دَ اِنَّ دے۔

[۹] دا زیرے اخروی دے دپاره دَ منونکو ﴿يَهْدِيْهِمْ رَبُّهُمْ بِاِيْمَانِهِمْ﴾ یومعنیٰ دا ده چه کوی دوی لره هدایت په سبب دَ ایمان دَ دوی سره۔ دویمه معنیٰ دا ده چه جنت ته بوځی دوی لره رب دَ دوی په سبب دَ ایمان دَ دوی په اوله معنیٰ سره هدایت په معنیٰ دَ توفیق دَ اعمال صالحه دے اوپه دویمه معنیٰ سره هدایت په معنیٰ دَ رسَولو دے جنت ته ﴿مِنْ تَحْتِهِمُ﴾ مراد دَ دے نه لاندے دَ بنګلواودَ محلونودَ دوی نه۔

[۱۰] دا هم په هغه زیری کښ داخل دے مطلب دا دے چه کله دوی څه شے غواړی دَ جنت دَ نعمتونونه نوآوازبه اوکړی په سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ سره اوکله چه ختم کړی خوړل اوڅښکل نو وائي به الحَمْدُلِلّٰهِ ، یا مراد دا دے چه هروخت کلام دَ دوی به شورو کیږی په سُبْحَانَكَ اللهم سره او ختمیږی به په الحمد لله سره ﴿وَتَحِيَّتُهُمْ فِيْهَا سَلٰمٌ﴾ یو معنیٰ دا ده چه پیشکشی دَ دوی دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه لفظ دَ سَلٰم به وی بله معنیٰ دا ده چه سلام کول دَ دوی یوبل ته یا دَ ملائکودَ طرف نه مبارکی به وی په سلامتیا سره دَ عذاب نه۔ نوپه اوله معنیٰ سره سلام په خپله معنیٰ مشهورے سره دے او په دویمه معنیٰ سره سلام په معنیٰ دَ مبارکے دَ سلامتیا سره دے۔

[۱۱] دَ دے تعلق دَ (۲) سره دے یعنی کوم خلق چه تعجب کوی دَ رسالت دَ دے رسول نه او هغوی دَ ځان دپاره عذاب غواړی لکه په انفال (۳۲) کښ دی لیکن اللّٰه تعالیٰ دَ هغوی اجابت نه کوی دارنګ دَ دے ایت تعلق دَ لفظ دَ رب العالمین سره دے یعنی دَ ربوبیت په وجه سره اللّٰه تعالیٰ دَ دوی خیرے زرنه قبلوی اودا زورنه ده منکرینوته مطلب ئے دا دے چه دوی کله دَ ځان دپاره خیرغواړی اواللّٰه تعالیٰ ئے ورله زر ورکوی اودارنګے کله دوی دَ ځان دپاره عذاب غواړی لیکن اللّٰه تعالیٰ دا دُعا زرنه قبلوی۔ که اللّٰه تعالیٰ

ضُرٍّ مَّسَّهُۥ ۚ كَذَٰلِكَ زُيِّنَ لِلْمُسْرِفِينَ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿١٢﴾ وَلَقَدْ أَهْلَكْنَا ٱلْقُرُونَ مِن قَبْلِكُمْ لَمَّا ظَلَمُوا۟ وَجَآءَتْهُمْ رُسُلُهُم بِٱلْبَيِّنَٰتِ وَمَا كَانُوا۟ لِيُؤْمِنُوا۟ ۚ كَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلْقَوْمَ ٱلْمُجْرِمِينَ ﴿١٣﴾ ثُمَّ

تکلیف ته چه رسیدلے وو دهٔ ته دغسے خائسته کړے شویدے مشرکانوته هغه عمل چه دوی ئے کوی (۱۲) او یقیناً هلاك کړی دی مونږ قومونه (پیړئ) مخکښے ستاسونه هرکله چه دوی ظلم کړے وو او راغلی وو دوی ته رسولان دَ دوی په ښکاره بیانونو اونه وو دوی چه ایمان ئے راوړے وے دغسے سزا ورکؤوموږ قوم مجرمانوته(۱۳) بیا

زرقبلولے نو دوی به ئے تراوسه هلاك کړے وے۔ ابن قتیبه وئیلی دی چه په دیکښ داخل ده چه بعض انسان په وخت دَ غصّه کښ خپل ځان ته اوبال بچ وغیره ته خیرے کوی اومرګ اوهلاکت غواړی لکه عامو اوقاتوکښ څرنګه چه رحمت اوروزی اوصحت وغیره غواړی نواللّٰه تعالیٰ خو دَ دوی دُعاګانے دَ خیر زرقبلوی لیکن که خیرے دَ دوی اللّٰه تعالیٰ زر قبلولے نو دوی به زرهلاك شویوؤ لیکن انسان له خیرے کول په ځان اوپه اولاد باندے په حدیث کښ منع دی هسے نه چه داسے وخت سره برابرے اوخوری چه په هغے کښ دعاګانے قبلیږی نوبیا به پښیمانه وی ﴿فَنَذَرُ﴾ هرکله چه زرئیے نه هلاکوی نو مهلت ورکوی۔ ﴿طُغْيَٰنِهِمْ﴾ دَ دے نه مراد شرك اوکفر اوګناهونه دی۔

[۱۲] تیرشوی ایت کښ طلب دَ عذاب ذکرشونوپدے ایت کښ ثابتوی چه دوی په دے طلب کښ دروغژن دی ځکه چه په حالت دَ ضرورت کښ بیا دَ خیر دُعاګانے غواړی نودا هم زورنه ده منکرینوته مطلب ئیے دا دے چه بعضِ انسان په حالت دَ تکلیف کښ خاص دَ اللّٰه تعالیٰ نه مدد غواړی اوهرکله چه اللّٰه تعالیٰ دَ دهٔ نه مصیبت لرے کړی نوبیا په شرك باندے روان شی هم داسے په سورة روم (۳۳) اوسورة سجده (۵۱) کښ دی دغسے بعضِ مؤمنان هم په حالت دَ تکلیف کښ اللّٰه تعالیٰ یادوی اوتوبے اوباسی اوکله چه مصیبت ترینه لرے شی نوبیا په ګناهونوکښ شروع شی۔

نکته: پدے ایت کښ په لِجَنبِهٖ باندے شروع ځکه کړے ده چه دَ هغه مصیبت ډیر وی نودُعا ئیے هم ډیره وی۔ بیا ورپسے حال دَ ناست سړی دے بیا ورپسے حال دَ ولاړسړی دے ﴿لِجَنۢبِهٖٓ﴾ دا متعلق دے په دَعَانَا پورے اوزجاج وئیلی دی چه جائزه ده چه دا متعلق شی په الضرپورے اودا درے حالتونه ئے ځکه ذکرکړل چه انسان دَ دے درے واړونه خالی نه وی۔ ﴿مَرَّ﴾ دا په معنیٰ دَ استمرار سره دے په شرك باندے ﴿لِلْمُسْرِفِينَ﴾ مراد دَ دے نه مشرکان دی خوهغوی ته مشرکان دَ دے وجے نه وائی چه هغوی بربادکړے دے نفس خپل په بندګئ دَ غیراللّٰه کښ اومالونه خپل په تحریم اونذردَ غیراللّٰه کښ ﴿مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ﴾ دَ دے نه مراد اعمال مشرکانه دی۔

[۱۳] پدے ایت کښ یره دُنیوی ده دپاره دَ منکرینو ربط ئے دَ مخکښ سره دا دے چه کله خواللّٰه تعالیٰ دوی له مهلت ورکوی اودُعاګانے ورله قبلوی لیکن روستودَ مهلت نه ئے داسے اونیسی په هلاك اوعذاب سره دَ وجے دَ شرك اوانکاردَ رسولانونه اوبیا ئیے هیڅ دُعا نه قبلوی ﴿وَجَآءَتْهُمْ رُسُلُهُم﴾ دا جمله حالیه ده اودَ دے نه روستوفکذبوهم پټ دے (یعنی دوی دَ رسولانوتکذیب اوکړو) ﴿وَمَا كَانُوا۟ لِيُؤْمِنُوا۟﴾ دا عطف دے په ظلموا باندے یعنی دوی نه امید دَ ایمان نه وؤ پاتے شوے ﴿ٱلْمُجْرِمِينَ﴾ پدے ایت کښ ظلم اوانکاردَ

جَعَلْنٰكُمْ خَلٰٓئِفَ فِي الْاَرْضِ مِنْۢ بَعْدِهِمْ لِنَنْظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُوْنَ ﴿١٤﴾ وَاِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيَاتُنَا بَيِّنٰتٍ ۙ
قَالَ الَّذِيْنَ لَا يَرْجُوْنَ لِقَآءَنَا ائْتِ بِقُرْاٰنٍ غَيْرِ هٰذَآ اَوْ بَدِّلْهُ ؕ قُلْ مَا يَكُوْنُ لِيْٓ اَنْ اُبَدِّلَهٗ مِنْ تِلْقَآئِ
نَفْسِيْ ۚ اِنْ اَتَّبِعُ اِلَّا مَا يُوْحٰٓى اِلَيَّ ۚ اِنِّيْٓ اَخَافُ اِنْ عَصَيْتُ رَبِّيْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ﴿١٥﴾ قُلْ لَّوْ شَآءَ
اللّٰهُ مَا تَلَوْتُهٗ عَلَيْكُمْ وَلَآ اَدْرٰىكُمْ بِهٖ ۖ فَقَدْ لَبِثْتُ فِيْكُمْ عُمُرًا مِّنْ قَبْلِهٖ ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿١٦﴾ فَمَنْ

اوګرځولئ مونږ تاسو اوسیدونکی په زمکه کښ روستو دَمشرانونه دے دپاره چه اوګورو مونږه (په طریقه دَامتحان) چه په کومه طریقه عمل کوئ تاسو(١٤) اوهرکله چه بیان کړے شی په دوی باندے آیتونه ځمونږه صاف صاف نووائی هغه کسان چه نه لری عقیده دَملاقات ځمونږ راوړه یو قرآن بغیر دَ دے نه یابدلی اوکړه په دهٔ کښ اُوایه ته نه دی جائز مالره چه بدلی اوکړم په دهٔ کښ دَ خپل طرف نه تابعداری نه کوم ځه مګر دَهغے چه وحی کیدے شی ماته یقیناً یریږم ځه که نافرمانی اوکړم دَ رب خپل (په بدلولو دَقرآن سره) دَعذاب دَ ورځے لوئے نه(١٥) ته اُوایه که غوښتے وے اللّٰه تعالیٰ نونه به وے لوستلے ماقرآن په تاسو باندے اونه به خبر درکړے وے اللّٰه تعالیٰ تاسوته په دے سره پس یقیناً تیرکړے دے ماپه تاسو کښ ډیر عمر دَ دے نه مخکښ آیاپس عقل نه لرئ(١٦) پس ځوک

ایمان نه ذکرشواودا جرم عظیم دے اوتیرشوی ایت صرف شرك ذکرکړے وؤنو هغه اسراف دے۔

[١٤] دا ایت هم یره دُنیوی کښ داخل دے ﴿كَيْفَ تَعْمَلُوْنَ﴾ دا دلیل دے پدے باندے چه دَ اللّٰه تعالیٰ په نیزباندے په عملونوکښ کیفیات اوطریقے مقصود دی چه هغه طریقه دَ پیغمبروی اودا ایت ټول امت ته خطاب دے ﴿لِنَنْظُرَ﴾ مراد دَ نظرنه امتحان دے ﴿كَيْفَ تَعْمَلُوْنَ﴾ یومقصد دَ خلق توحید دے لکه په سورة ذاریات (٥٦) کښ دی۔ اودویم مقصد طریقے دَ بندګئے دی په موافقت دَ سنت سره لکه په دے ایت کښ دی۔

[١٥] دا ایت هم زورنه ده منکرینودَ توحید ته مطلب ئے دا دے چه دوی ته هرکله آیتونه دَ توحید بیانیږی نودوی وائی چه قرآن بنه دَ نصیحت کتاب دے لیکن هرځائے پکښ دَ شرك رد دے دا ترے لرے کړه نوباقی مونږمنو ﴿بَيِّنٰتٍ﴾ چه په وضاحت سره دلالت کوی په توحید باندے ﴿غَيْرِ هٰذَآ اَوْ بَدِّلْهُ﴾ دَ دے فرق دا دے چه غیر، دا معنیٰ ده چه دَ دے قرآن په ځائے بل کتاب راوړه او دے بالکل لرے کړه، اوتبدیل دا معنیٰ ده چه پدے کښ ترمیم اوکړه یعنی مسئله دَ توحید ترے نه لرے کړه ﴿قُلْ﴾ دا اول جواب دے دَ مشرکانودَ مطالبے۔ مطلب ئے دا دے چه ځه ترمیم نشم کولے نو تغیرخوپه طریقه اولی سره نه شم کولے ځکه چه دا دواړه کارونه سبب دَ لوئے عذاب دی ﴿اِنْ اَتَّبِعُ اِلَّا مَا يُوْحٰٓى اِلَيَّ﴾ دا دلیل دے چه دَ وحی نه بغیردَ بل څیز تابعداری جائزنه ده ﴿اِنْ عَصَيْتُ﴾ مراد دَ عصیان نه تبدیل اوتغییردے۔

[١٦] دا دویم جواب دے دَ مطالبے دَ مشرکینو۔ حاصل ئے دا دے چه بیانول دَ دے قرآن ما دَ ځان نه نه دی شروع کړی دَ دے بیان ځما دَ طرف نه اودَ دے تعلیم درکول تاسوته په ارادے دَ اللّٰه تعالیٰ سره دی ﴿فَقَدْ لَبِثْتُ﴾ دَ دے اول مطلب دا دے چه ځما دَ ځلویښتوکالوترعمره پورے صدق اوامانت تاسوپیژئی اوداهم پیژئی چه ځه امّی یم ماځه لوستلی یا لیکلی نه دی نو ځنګه ما داکتاب دَ ځان نه جوړ کړے شو۔ دویم مطلب دا دے چه تاسوته معلومه ده چه په دے ځلویښت کاله کښ ما دَ اللّٰه تعالیٰ هیڅ نافرمانی نه ده کړے نو

أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا أَوْ كَذَّبَ بِاٰيٰتِهٖ ؕ اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الْمُجْرِمُوْنَ ﴿١٧﴾ وَيَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ
اللّٰهِ مَا لَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنْفَعُهُمْ وَيَقُوْلُوْنَ هٰٓؤُلَآءِ شُفَعَآؤُنَا عِنْدَ اللّٰهِ ؕ قُلْ اَتُنَبِّئُوْنَ اللّٰهَ بِمَا لَا
يَعْلَمُ فِي السَّمٰوٰتِ وَلَا فِي الْاَرْضِ ؕ سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿١٨﴾ وَمَا كَانَ النَّاسُ اِلَّآ اُمَّةً وَّاحِدَةً

لوئے ظالم دے دَهغه چانه چه جوړوی په اللّٰه تعالیٰ باندے دروغ یادروغژن ګڼړی آیتونه دَهغه یقیناً نه شی بچ کیدلے داسے مجرمان (دَعذاب دَ اللّٰه نه) (١٧) اوبندګی کوی داخلق سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه دَهغه چاچه نه ضرر رسولے شی دویته اونه نفع رسولے شی دوی ته اووائی دوی چه داکسان سفارشیان ځمونږ دی په دربار دَ اللّٰه تعالیٰ کښ اُوایه ته آیاتاسو خبر ورکوئ اللّٰه تعالیٰ ته په هغه ځیز چه نه ئے پیژنی اللّٰه تعالیٰ په آسما نونو کښ اونه په زمکه کښ (یعنی موجود نه دی) پاك دے اللّٰه تعالیٰ اولوئے دے دَ هغے نه چه دوی شریکوی دَ اللّٰه تعالیٰ سره(١٨) اونه وو خلق دَ دے نه مخکښ مګر یوډله وه (په عقیده دَ توحید)

ځلویښت کاله نه روستوبیا ځنګه ګناه اوکړم۔ اودا دلیل دے دَ عصمت قبل النبوّة۔ په صحیح حدیث سره ثابت ده چه نبیﷺ ته دَ ځلویښت کالوپه عمرکښ وحی دَ نبوت شروع شویوه بیاپه مکه مکرمه کښ ئے دیارلس کاله اوپه مدینه منوره کښ لس کاله تیر کړل او دَ درے شپیته کاله په عمر کښ وفات شو او په کومورواياتو کښ چه شپیته کاله ذکر دی نوپه هغے کښ کسر (درے) حذف کړے دے۔

[١٧] دا هم زورنه ده منکرینوته اومشرکینوته ﴿اِفْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا﴾ یومراد دَ دے نه مشرك دے چه شرك کوی۔اودَ هغے دَ جواز نسبت اللّٰه تعالیٰ ته کوی او اللّٰه تعالیٰ ته دَ ولد نسبت کوی۔ دویم مراد دَ دے نه هغه شوك دے چه دَ اللّٰه تعالیٰ په کلام کښ تبدیل اوکړی اودَ ځان دَ طرف نه په هغے کښ الفاظ یا معانے جوړه وی۔ په اوله توجیه ربط دا دے چه ځه ظلم کوؤنکے نه یم ځکه چه افتراء په اللّٰه تعالیٰ باندے لوے ظلم دے ﴿اَوْ كَذَّبَ بِاٰيٰتِهٖ﴾ اشاره ده چه په اللّٰه تعالیٰ باندے افتراء کوونکے اودَ قرآن تکذیب کوونکے دواړه یوشان دی په کفرکښ۔

[١٨] دَ دے ځائے نه تردیرشم(٣٠) آیت پورے دویم باب دے۔ په دے باب کښ رد دے په عقیده دَ مشرکینوچه هغی خپل شرکاء شفعاء ګڼړی اوپنځه زورنے دی اومثال دے دپاره دَ فنا دَ دُنیا او زیرے اخروی اویره اُخروی ده۔ په دے آیت ١٨ کښ رد دے په شرك فی العبادت باندے اوعقیده دَ مشرکانو چه هغئ خپل معبودان شفعاء ګڼړی۔ حاصل دَ دوی دَ عقیدے دا وؤ چه دوی وئیل چه اللّٰه تعالیٰ یودے لیکن دا مونږچه سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه دَ چا بندګی کوؤلکه (لات، منات، هبل) وغیره نودوی زمونږه حاجتونه په اللّٰه تعالیٰ باندے پوره کوی رزق راکول، اولاد راکول، مرضونه لرے کول وغیره۔ اوکوموکسانو چه دوی کښ په آخرت باندے عقیده وه نو هغی دا هم وئیل چه دا معبودان په ورځ دَ آخرت به مونږ لره دَ عذاب نه نجات راکوی او په اللّٰه تعالیٰ باندے به ځمونږه بخنه خامخا کوی۔ اودے عقیدے ته وسیله شرکیه اوشفاعت قهریه (بے اجازته) وئیلے کیږی۔ امام رازی فرمائي چه دَ دے مثال زمونږ په زمانه کښ قبرپرست خلق دی چه دَ اولیاؤ دَ قبرونو نا جائز تعظیم کوی لکه سجده لګول او طواف کول اودَ هغے په نوم نذرانه شکرانه ورکول اوپه هغی باندے جنلے اوغلافونه اچول په دے عقیدے سره چه کله مونږدا تعظیمونه اوکړو نو دا

اولیائیے کرام ځمونږحاجتونه په اللّٰه تعالیٰ باندے ځامخا پوره کوی اوپه ورځ دَ قیامت به هم دوی مونږله نجات راکوی۔ اودا عقیده قطعاً شرك دے ځکه چه دَ دے آیت په آخرکښ یُشرِکُونَ، فرمائیلے دے اوپدے آیت کښ دَ هغی په عقیده باندے رد په دریو طریقوسره شویدے اول دا چه دا معبودان مالك دَ نفعے اوضررنه دی دویم دا چه اللّٰه تعالیٰ ته په خپل مخلوق کښ داسے هیځوك نه دی معلوم چه هغه شفیع قهری وی نوآیا تاسو اللّٰه تعالیٰ له خبر ورکوئ ﴿بِمَالَایَعْلَمُ﴾ دا کنایه ده دَعدم وجود نه ځکه چه اللّٰه تعالیٰ په هر موجود باندے عالم دے۔ دریم دا ده چه دا عقیده عین شرك دے اواللّٰه تعالیٰ دَ هرقسم شرك نه پاك دے۔ ﴿مَالَایَضُرُّ هُمْ وَلَا یَنْفَعُهُمْ﴾ نفی دَ ضرراونفعے عموماً ده اوبعضو تخصیص کړیدے چه ضرر په وخت دَ پریخودلودَ عبادت اونفع په وخت دَ کولو دَ عبادت کښ وی ﴿سُبْحٰنَهٗ﴾ تسبیح راجع ده شریك فی العبادة ته اووَتَعالیٰ دا راجع دے شفعاء نا ته۔

فائده: په دُنیا کښ دَ بندګانوپه مینځ کښ دَ مجرم دَ بچ کولو دپاره یا دَ یوضرورت پوره کولودپاره درے قسمه سفارش کیدے شی اول قسم شفاعت بالمحبت یعنی مجرم یا محتاج په سفارش کښ هغه ځوك پیش کوی چه هغه دَ مشفوع الیه (چاته چه سفارش پیش کیږی) محبوب اوکامل دوست وی۔ دویم قسم شفاعت بالوجاهت دے یعنی مجرم یا محتاج په سفارش کښ هغه ځوك پیش کوی چه هغه دَ مشفوع الیه په نیز باندے مخاوریزاو ډیرعزتمند سړے وی۔ په دے دواړو قسمو سفارشونوکښ مشفوع الیه مجبوره شی اوخپله اراده پریږدی اوخپل قانون باندے هم عمل پریږدی اوسفارش دَ هغے محبوب یا دَ مخاوریز سړی ضرور قبلوی دَ دے دواړو قسمونو په شفاعت قهریه سره تعبیرکیدیشی۔ اومشرکان دا دواړو قسمه سفارشونه کول دَ اللّٰه تعالیٰ په دربارکښ دَ خپلوشفعاؤپه باره کښ ګټړی لیکن دا شرك دے ځکه چه اللّٰه تعالیٰ دَ هیڅا دَ محبت یا مخاوریزئ نه نه مجبوره کیږی دریم قسم په اذن سره دے یعنی یوتن په خپل قانون کښ دالیکلی وی چه ځه خپله اراده نه شم پریخودلے اونه دَ خپل قانون خلاف کولے شم مګرهله چه فلانے سړے ماته سفارش اوکړی نوهغه به منم نو دیکښ دَ سفارش کوونکی هیڅ زورپه مشفوع الیه باندے نه چلیږی داسے قسم شفاعت دَ اللّٰه تعالیٰ په دربارکښ په دریو طریقوسره ثابت دے اول دا چه یو ژوندے دَ بل ژوندی دپاره دُعا غواړی دویم دا چه ژوندے دَ مړدپاره دُعا غواړی۔ دریم دا چه په ورځ دَ قیامت نیکان اوبخلے شوی خلق دَ مؤمنانوګنهګارودپاره سفارش کوی دَا درے واړه په شرع کښ ثابت دی اوځلورم قسم دَ مړی دُعا دپاره دَ ژوندی دا په دلیل شرعی سره نه ده ثابت بلکه په دے زمانے کښ دا عقیده شرك ته رسیدلے ده۔

فَاخْتَلَفُوْا ؕ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِنْ رَّبِّكَ لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ فِيْمَا فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ﴿١٩﴾ وَيَقُوْلُوْنَ لَوْلَآ
اُنْزِلَ عَلَيْهِ اٰيَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ ۚ فَقُلْ اِنَّمَا الْغَيْبُ لِلّٰهِ فَانْتَظِرُوْا ۚ اِنِّيْ مَعَكُمْ مِّنَ الْمُنْتَظِرِيْنَ ﴿٢٠﴾ ع
وَاِذَآ اَذَقْنَا النَّاسَ رَحْمَةً مِّنْۢ بَعْدِ ضَرَّآءَ مَسَّتْهُمْ اِذَا لَهُمْ مَّكْرٌ فِيْٓ اٰيَاتِنَا ؕ قُلِ اللّٰهُ اَسْرَعُ مَكْرًا ؕ
اِنَّ رُسُلَنَا يَكْتُبُوْنَ مَا تَمْكُرُوْنَ ﴿٢١﴾ هُوَ الَّذِيْ يُسَيِّرُكُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ ؕ حَتّٰٓى اِذَا كُنْتُمْ فِي

پس اختلاف اوکړو (روستو خلقو) اوکه نه وے حکم (دَ روستو والی دَ عذاب) چه مخکښ مقرر شوے دے دَ طرف دَ رب ستانه خامخا فیصله به شوے وه په مینځ دَ دوی کښ په هغه څه کښ چه دوی پکښ اختلاف کوی او دوی وائی ولے نهٔ شی نازلیدلے په دے پیغمبر یو نخه (چه مونږ غواړو) دَطرف دَرب دَ دهٔ نه پس ته اُوایه یقیناً علم دَغیب خاص اللّٰه تعالیٰ لره دے پس انتظار کوئ یقیناً څه ستاسو سره دَ انتظار کوونکوونه یم (۲۰) اوهرکله چه اوسکؤو مونږه خلقوته رحمت پس دَ تکلیف نه چه رسیدلے وی دهٔ ته دغه وخت کښ دوئ لره مقابله کول وی په آیتونو څمونږ کښ ته اُوایه چه اللّٰه تعالیٰ ډیر زر مقابله کوونکے دے یقیناً ملائیك څمونږ لیکی هغه چه تاسو څه مقابلے کوئ(۲۱)خاص اللّٰه تعالیٰ هغه ذات دے چه ګرځوی تاسوپه اوچه اوپه دریابونو کښ تردے پورے کم وخت چه ئے تاسو په

[۱۹] په دے ایت کښ جواب دَ یوسوال دے سوال دا ووُچه دا عقیده دَ شفاعت به ستاسوپه دین کښ منع وی لیکن مخکنو دینونوکښ خوداجائزده؟ نوجواب اوشوچه دَ ټولوپیغمبرانودین یودے اختلاف پکښ خلقوجوړ کړیدے ﴿اُمَّةً وَّاحِدَةً﴾ یعنی دَ وخت دَ ادم ﷺ نه دَ شرك دَ قوم نوح پورے یا دَ هلاك دَ قوم نوح نه ترعادیانو پورے۔ بل سوال دا ووُچه هرکله دا عقیده دَکفر اودَ شرك ده نوپه دوی باندے عذاب ولے نه راځی ؟ نوجواب اوکړے شوپدے جملے سره چه ﴿وَلَوْلَا كَلِمَةٌ﴾ مراد دَ دے کلمے نه دا دے چه اللّٰه تعالیٰ فیصله کړے ده چه دا اُمت په عذاب سره په دُنیا کښ نه هلاکوی ترقیامت پورے مراد دا دے چه اللّٰه تعالیٰ فیصله کړیده چه هیڅوك نه هلاکوی څو پورے چه دوی له ئے په واسطه دَ رسول ﷺ یا دَنائب دَ رسول ﷺ خبرنه وی ورکړے۔

[۲۰] دے ایت کښ زورنه ده په طلب دَ معجزے سره دَ پیغمبرنه، هغه معجزات چه دَ دوی خواهش ئے غواړی۔ حاصل دَ جواب دا دے چه نازلیدل دَ معجزے دا غیب دے اوماسره علم دَ غیب نیشته نواختیاردَ راوړلوبه راسره څنګه وی ﴿فَانْتَظِرُوْا﴾ دَ راتللو دَ ایت یا دَ عاقبت دَ انکارانتظار اوکړئے۔

[۲۱] دے آیت کښ زورنه ده منکرینوته ﴿رَحْمَةً﴾ وسعت دَ رزق، صحت دَ بدن، باران دَ رحمت، نورنعمتونه ﴿ضَرَّآءَ﴾ قحط اومرض وغیره ﴿مَكْرٌ﴾ په معنیٰ دَ دروغژن کولو اودَ مقابلے کولویعنی جګړه کولودے حاصل دا دے چه بعضے انسان ته چه هرکله دَ سختئی نه روستو راحت اورسی نودے دَ اللّٰه تعالیٰ دَ توحید اودَ قرآن مقابله کوی ﴿اَسْرَعُ مَكْرًا﴾ مکر په معنیٰ دَ پټ تدبیردَ عذاب دے۔ سرعة دا دے چه څوك ډیرمستحق دَ عذا ب وی نوهغوی لره مخکښ هلاك کړی او نور ورپسے هلاك کړی اوعجلت صفت دَ اللّٰه تعالیٰ نه دے اوسرعت دَ هغه صفت دے۔ اودا آیت دلیل دے په دے خبره چه دَ هرانسان سره لیکونکی ملائك مقرر دی۔

الْفُلْكِ ۚ وَجَرَيْنَ بِهِمْ بِرِيْحٍ طَيِّبَةٍ وَّفَرِحُوْا بِهَا جَآءَتْهَا رِيْحٌ عَاصِفٌ وَّجَآءَهُمُ الْمَوْجُ مِنْ كُلِّ
مَكَانٍ وَّظَنُّوْٓا اَنَّهُمْ اُحِيْطَ بِهِمْ ۙ دَعَوُا اللّٰهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ۚ لَئِنْ اَنْجَيْتَنَا مِنْ هٰذِهٖ لَنَكُوْنَنَّ مِنَ
الشّٰكِرِيْنَ ﴿٢٢﴾ فَلَمَّآ اَنْجٰىهُمْ اِذَا هُمْ يَبْغُوْنَ فِى الْاَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ ؕ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اِنَّمَا بَغْيُكُمْ عَلٰٓى اَنْفُسِكُمْ ۙ
مَّتَاعَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۡ ثُمَّ اِلَيْنَا مَرْجِعُكُمْ فَنُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿٢٣﴾ اِنَّمَا مَثَلُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا

کشتو کښ اوروانے یئ داکشتئی په دوی په هوا نرمے سره اوخوشحاله شی دوئ په هغے نوراشی هغے ته سیلئی تیزه اوراشی دوئ ته چپے دَهر طرف نه اوګمان اوکړی چه دوئ راګیر کړے شول په دے چپو سره بلی اللّٰه تعالیٰ لره خالص کوی هغه لره بلنه (اووائی) که بچ کړوتامونږ لره دَ دے مصیبت نه خامخا شوبه مونږ دَ شکر ګذارو ستانه (۲۲) پس هرکله چه بچ کړی اللّٰه تعالیٰ دوئ لره نودغه وخت کښ دوئ ظلم کوی په زمکه کښ په ناحقه سره (یعنی شرك کوی) اے خلقو یقیناً ظلم ستاسو تاوان دے په ځانونو ستاسو فائدے واخلئ فائدے دَژوند دُنیوی بیامونږته راګرځیدل ستاسو دی پس خبربه درکړو تاسو لره په هغے عملونو چه تاسو ئے کوئ (۲۳) یقیناً مثال دَژوند دُنیوی

[۲۲] ﴿يُسَيِّرُكُمْ﴾ دا دَ اوچے اولوندے تمام دَ سورلئے څیزونوته شامل دے که په هغه وخت کښ موجود وؤ اوکه نه وؤ ﴿حَتّٰٓى اِذَا كُنْتُمْ﴾دا دَ لوندے (بحر) دَ سورلئے دَ یوحالت ذکرکوی ﴿فِى الْفُلْكِ﴾ دالویوجهازونواو وړوکشتو اولانجونو ته شامل دے ﴿وَجَرَيْنَ بِهِمْ﴾ په دے کښ التفات (نقل) دے دَ خطاب نه غیبت ته پدیکښ ډیرے فائدے دی۔ یوفائده دا ده چه دَ دوی شان اوحال نوروته ذکرکوی دپاره دَ عبرت اخستلو﴿طَيِّبَةٍ﴾ درمیانه حالے نه ډیره تیزه اونه کمزورے ﴿اُحِيْطَ بِهِمْ﴾ احاطه په معنیٰ دَ هلاکت سره ده اوهرکله چه قریب وؤ هلاکت ته هلاك شوی نه دی دَ دے وجے نه ئے ظنوا اُوئیل ﴿مُخْلِصِيْنَ﴾ یعنی دَ اللّٰه تعالیٰ سره بل څوك نه شریکوی او دا اخلاص په اصل کښ علم یقینی فطری دے اخلاص ایمانی نه دے۔ دے آیت کښ اول دلیل عقلی دے بیا زورنه ده مشرکینوته حاصل ئے دا دے چه کله په دوی باندے څه غټ تکلیف اومصیبت راشی نوپه هغه وخت کښ صرف اللّٰه تعالیٰ ته آواز کوی اودَ خپلو معبودانو نوم نه اخلی اواللّٰه تعالیٰ سره وعدے کوی که دا مصیبت ئے څمونږنه لرے کړونو مونږبه دَ اللّٰه تعالیٰ شکر ادا کوؤ په توحید منلوسره ، دارنګ نذر اوصدقه به دَ اللّٰه تعالیٰ په نوم کوؤ۔

فائده: لیکن افسوس دے دَ دیے زمانے په جاهلانو چه هغی یقین اوعقیده په بزرګانو اوپه اولیاؤ دومره کلکه شویده چه که ډیره سختی په دوی باندے راشی نوهغه بزرګانوته رامدد شه وائی او اللّٰه تعالیٰ ئے هیرکړے وی نودَ دوی حال دَ مخکنو مشرکانو نه بدتر دیے۔ دا سے مضمون علامه آلوسی په تفسیر روح المعانی کښ لیکلے دیے۔

[۲۳] دا دَ مخکښ آیت سره متعلق دے ﴿اَنْجٰىهُمْ﴾ اشاره ده چه اللّٰه تعالیٰ دَ مشرك دُعا هم قبلوی دَ هغه دَ تضرع دَ وجے نه ﴿يَبْغُوْنَ فِى الْاَرْضِ﴾ دَ بغی نه مراد دلته شرك دے په دلیل دَ آیت دَ سورة عنکبوت ٦٥ باندے اودارنګ په سورة اسراء (٦٧) اوسورة لقمان (٣٢) کښ دی ﴿بِغَيْرِ الْحَقِّ﴾ مراد دَ دینه البَاطِل دے چه شرك کول دی یعنی فسادکوی په شرك کولو سره یا مراد دَ دینه دا دے چه بغی په حق سره نه کوی بلکه په ناحق سره کوی بغی بالحق دا ده چه مسلمانان دَکافرانوپه مالونوباندے غالب شی په سبب دَ

كَمَآءٍ اَنْزَلْنٰهُ مِنَ السَّمَآءِ فَاخْتَلَطَ بِهٖ نَبَاتُ الْاَرْضِ مِمَّا يَاْكُلُ النَّاسُ وَالْاَنْعَامُ ؕ حَتّٰٓى اِذَآ
اَخَذَتِ الْاَرْضُ زُخْرُفَهَا وَازَّيَّنَتْ وَظَنَّ اَهْلُهَآ اَنَّهُمْ قٰدِرُوْنَ عَلَيْهَآ ۙ اَتٰىهَآ اَمْرُنَا لَيْلًا اَوْ نَهَارًا
فَجَعَلْنٰهَا حَصِيْدًا كَاَنْ لَّمْ تَغْنَ بِالْاَمْسِ ؕ كَذٰلِكَ نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ﴿٢٤﴾ وَاللّٰهُ يَدْعُوْٓا
اِلٰى دَارِ السَّلٰمِ ؕ وَيَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿٢٥﴾ لِلَّذِيْنَ اَحْسَنُوا الْحُسْنٰى وَزِيَادَةٌ ؕ وَلَا

په شان دَ اوبو دے چه رااوروو مونږ هغه دَآسمان دَطرف نه پس کښې رااوخیژی په هغے سره بوټی دَزمکے دَهغے قسم نه چه خوری ئے خلق اوځاروی تردے پورے کله چه واخلی زمکه ډول ډول اوخائسته شی اوګمان اوکړی مالکان دَهغے چه یقیناً دوی قادر دی په لوکولو دَهغے فصل نوراشی په هغے عذاب دَشپے یادَروځے پس اوګرځوو مونږ هغه لو کړے شوے (دل دول) ګویا نه وو ولاړ دغه فصل پرون دغسے په تفصیل سره بیانوو آیتونه(مثالونه) دپاره دَهغه قوم چه فکر کوی (٢٤) او اللّٰه تعالیٰ رابلی بندګان خپل کور دَسلامتیاته او روانوی چاڅه چه اوغواړی په نیغه لار باندے (٢٥) دپاره دَهغے کسانوچه خائسته عمل ئے کړیدے خائسته بدله ده اوزیاتی نعمتونه دی اونه به

جهاد سره اودَ هغوی نه ئے په زورسره واخلی ﴿مَتَاعَ﴾ دَ دے فعل حذف دے تَمَتَّعُونَ مَتاعًا یا منصوب دے په حرف جر محذوف سره فِي متاع الحيٰوة الدُّنيا یعنی ستا بغی لږه زمانه ده زر دے چه فنا به شی ﴿مَتَاعَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا﴾ دا جواب دَ یوسوال دے که څوك دا سوال اوکړی چه اللّٰه تعالیٰ ته علم وؤ چه دا انسان به شرك کوی نودَ دهٔ دُعائے ولے قبلوله؟ نوجواب اوشوچه دا فائدے دی دَ ژوند دُنیوی اودا اللّٰه تعالیٰ مشرکانوته هم ورکوی او دا ایت دلیل دے پدے خبره چه اللّٰه تعالیٰ کله کله دَ مشرك دُعاهم قبلوی۔

[٢٤] هرکله چه متاع دَ حیٰوة دنیویه ذکرشونواوس دَ هغے دَفنا او زوال مثال ذکرکوی دپاره دَ تزهید فی الدنیا ﴿الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا﴾ دَ دے نه مراد عمراوسامانونه دَ دُنیا دی ﴿زُخْرُفَهَا﴾ نه مراد دا دے چه سرهٔ، سپین، زیړ رنګونه بوټی اوګلونه وغیره پیدا شی اوپه هغے سره زینت حاصل شی اوپه دے کښ تشبیه ده ناوے سره چه په زیوراتوسره خائسته شی نودَ انسان زړه ځان ته مائله کړی ﴿قٰدِرُوْنَ عَلَيْهَآ﴾ اشاره ده چه دا فصل پوخ شی لوکولوته نزدے وی ﴿بِالْاَمْسِ﴾ مراد ترینه زمانه قریبه ده۔ حاصل دا دے لکه چه اللّٰه تعالیٰ باران راوروی اوپه هغے سره زمکه شنه شی اوښائسته شی په قسماقسم ګلونوسره اومالك دَ فصل (زمیندار) یقین اوکړی چه فصل تیار شوے دے لیکن ناسپاه په هغے عذاب راشی اوهغه فصل تباه شی۔ دغه رنګے انسان په دے خپل ژوند باندے مغرور وی۔ اومختلف امیدونه ساتی لیکن ناسپاه پرے مړګ راشی نو امیدونه ئے نیمګړی پاتے شی۔ نومقصد دا دے چه دَ دے دُنیا دَ محبت دَ وجے نه دَ اللّٰه تعالیٰ دین مه پریږدئ۔

[٢٥] دَ دُنیا دَ فنا دَ بیان نه روستو ترغیب دے جنت ته ﴿يَدْعُوْٓا﴾ دعوت دَ اللّٰه تعالیٰ په رالیږلو دَ رسولانو اومبلغینودَ حق اوقائم کول دَ دلیلونو او نازلولو دَکتابونو سره دے اشاره ده چه دعوت لویه مرتبه ده داکار دَ اللّٰه تعالیٰ دے اودَ دعوت نه روستو هدایت حاصلیږی دَ دے وجے نه یهدی ئے روستو ذکر کړو ﴿دَارِ السَّلٰمِ﴾ دا یونوم دے دَ نومونودَ جنت نه ځکه چه په هغے کښ سلامونه دی لکه دَ دے سورة ١٠ نمبر آیت کښ تیرشوی دی اودارنګ په هغے کښ سلامتیا ده دَ هرآفت نه یا سلام صفت دَ اللّٰه تعالیٰ دے ﴿مَنْ

يَرْهَقُ وُجُوْهَهُمْ قَتَرٌ وَّلَا ذِلَّةٌ ؕ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿٢٦﴾ وَالَّذِيْنَ كَسَبُوا السَّيِّاٰتِ
جَزَآءُ سَيِّئَةٍ بِمِثْلِهَا ۙ وَتَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ ؕ مَا لَهُمْ مِّنَ اللّٰهِ مِنْ عَاصِمٍ ۚ كَاَنَّمَآ اُغْشِيَتْ وُجُوْهُهُمْ قِطَعًا
مِّنَ الَّيْلِ مُظْلِمًا ؕ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿٢٧﴾ وَيَوْمَ نَحْشُرُهُمْ جَمِيْعًا ثُمَّ نَقُوْلُ لِلَّذِيْنَ
اَشْرَكُوْا مَكَانَكُمْ اَنْتُمْ وَشُرَكَآؤُكُمْ ۚ فَزَيَّلْنَا بَيْنَهُمْ وَقَالَ شُرَكَآؤُهُمْ مَّا كُنْتُمْ اِيَّانَا تَعْبُدُوْنَ ﴿٢٨﴾ فَكَفٰى

پتوی مخونو دَ دوی لره تورواله اونه ذلت دغه کسان جنت والا دی دوئ په هغے کښ همیشه وی(٢٦) اوهغه کسان چه کوی بدکارونه بدله دَبدئ پشانته دَهغے وی اوپتوی به دَ دوی ټول بدن لره ذلت نه به وی دوی لره دَعذاب دَ اللّٰه تعالیٰ نه څوك بچ کوونکے ګویا کښ چه اغوستولے شوی وی مخونو دَ دوئ ته ټکرے دَتورے شپے دغه کسان اُور والا دی دوی به په هغے کښ همیشه وی(٢٧) او په هغه ورځ چه راجمع به کړو دوئ ټول بیابه اُوایوهغه کسانوته چه شرك ئے کړے دے او دربړئ په ځائے خپل تاسو اوشریکان ستاسو پس جدائی به راولو په مینځ دَ دوئ کښ او اوبه وائی شریکان دَ دوئ نه وئ تاسو مونږ لره بندګی کوونکی (٢٨) پس پوره دے

﴿يَّشَآءُ﴾ دا دلیل دے په دے خبره چه اللّٰه تعالیٰ مخلوق نه مستغنی دے اوپه خپلے ارادے سره کار کوی ﴿يَهْدِيْ﴾ مراد دَ هدایت رَسَوَل دی صحیح مقصد ته اوتوفیق ورکول دی۔

[٢٦] دے ایت کښ زیرے اُخروی دے دپاره دَ مؤحدینو ﴿وَزِيَادَةٌ﴾ دَ دے غوره تفسیردیدارالٰهی دے په جنت کښ ځکه چه دا په صحیح حدیث دَ مسلم کښ راغلی دی ﴿اَحْسَنُوْا﴾ مراد دَ احسان نه توحید دے په عقیده اوعمل سره ﴿الْحُسْنٰى﴾ خائسته حالت دے اوهغه جنت دے ﴿وَزِيَادَةٌ﴾ ټولو مفسرینو اهل سنت والجماعة دَ دے تفسیر په رؤیة دَ اللّٰه تعالیٰ سره نقل کړے دے اومعتزله دَ هغے نه انکارکوی اوصحیح حدیث ردکوی لکه صاحب دَکشاف ذکرکړیدی۔ امام رازی اوخازن دَ هغوی دَ شبهاتو جوابونه ذکرکړیدی۔

[٢٧] دایره اُخروی ده دپاره دَ مشرکینو ﴿وَالَّذِيْنَ﴾ پدے کښ لام پټ دے عطف دے په للذین احسنوا باندے ﴿بِمِثْلِهَا﴾ مماثلت په ناکاروالی کښ دے لکه څنګه چه شرك اوکفرپلیت عمل دے دارنګ دَ دوی جزا به هم پلیت مکان اوخوراك وغیره وی او دارنګ مماثلت په عدد کښ دے په یوسیئه باندے به یوه سزا وی ﴿كَاَنَّمَآ اُغْشِيَتْ﴾ مراد دا دے چه دَ دوی مخونه به داسے تور شوی وی لکه چه توره شپه په څه څیزباندے اوغوړلے شی۔ اوداپه مقابله دَ ﴿لَا يَرْهَقُ وُجُوْهَهُمْ قَتَرٌ﴾ کښ دے ﴿مَا لَهُمْ مِّنَ اللّٰهِ مِنْ عَاصِمٍ﴾ په دے کښ اشاره ده رد دَ شفیع قهری ته۔

[٢٨] دا آیت یره اخروی ده دپاره دَ مشرکانوچه عقیده دَ شفاعت مشرکین لری په باره دَ معبودانو خپلوکښ۔ اودا جواب دَ یوسوال دے۔ سوال دا وؤ چه مخکښ آیت کښ اوفرمائیل چه دَ دوی بچ کوونکے نیشته اوحال دا دے چه دوی خودَ نیکانو خلقوبندګی کړے ده نو امید دے چه هغی به ئے بچ کړی؟ حاصل دَ جواب دا دے چه هغه نیکان خلق دَ دوی دَ بندګئ نه به انکار اوکړی ﴿فَزَيَّلْنَا بَيْنَهُمْ﴾ یعنی په جدا جدا ځایونوکښ اودرولے شی دپاره دَ دے خبرے چه نیکان خلق په صف دَ مجرمانوکښ اونه دربړی یا مراد دا دے چه دَ دوی وصلتونه اوتعلقات به ختم کړو ﴿وَقَالَ شُرَكَآؤُهُمْ﴾ داپه جواب دَ قول دَ

بِاللّٰهِ شَهِيْدًا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ اِنْ كُنَّا عَنْ عِبَادَتِكُمْ لَغٰفِلِيْنَ ﴿٢٩﴾ هُنَالِكَ تَبْلُوْا كُلُّ نَفْسٍ مَّآ اَسْلَفَتْ وَ
رُدُّوْٓا اِلَى اللّٰهِ مَوْلٰىهُمُ الْحَقِّ وَضَلَّ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴿٣٠﴾ قُلْ مَنْ يَّرْزُقُكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ

اللّٰه تعالیٰ گواه په مینځ ځمونږ اوستاسو کښ یقیناً وو مونږ دَبندګئ ستاسونه خبا مخبا ناخبره (۲۹) دغه وخت به معلوم کړی هر نفس حقیقت دَهغے عمل چه مخکښ ئے لیږلے دے او اوبه ګرځولے شی دوئ اللّٰه تعالیٰ ته چه مالك دَ دوی دے په رښتیا اوورك به شی دَ دوئ نه هغه چه دوی ځه دروغ جوړول (۳۰) اُوایه ځوك روزی درکوی تاسوته دَآسمان

مشرکانو کښ دے چه(رَبَّنَا هٰٓؤُلَآءِ شُرَكَآؤُنَا الَّذِيْنَ كُنَّا نَدْعُوْا مِنْ دُوْنِكَ) نحل (۸٦)۔

فائده: په دے ایت کښ رد دے په هغه چا باندے چه هغوی دَ ملائکویا پیغمبرانویا دَ اولیاؤعبادت کړیدے یا قبرپرستی ئے کړیده اودَ اللّٰه تعالیٰ سره ئے په ځه صفتونو کښ شریك کړیدی۔ په دے آیت کښ بتان مراد نه دی ځکه چه حشراوسوال وجواب کول دَ بتانودَ شان سره مناسب نه دی۔

[۲۹]﴿فَكَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا﴾ دا په معنیٰ دَ قسم کښ دے یعنی مشرکان به اُوائي چه مونږ خو ضرور ستاسوعبادات کړیدی ستاسوقبرونوته موسجدے اوطوافونه کړیدی ستاسوپه نوم مونذرونه کړیدی اوتاسوته مورامدد شه وئیلی دی نوهغوی به په قسم سره مؤکد جواب اوکړی۔ او دا ایت ښکاره دلیل دے په دے خبره چه هغه پیغمبران او بزرګان چه خلقو هغی لره عبادتونه کړی دی هغی ته ئے را مدد شه وئیلی دی یا دَ هغی په نوم ئے نذرونه کړی دی وغیره نور کارونه۔ نوهغی دَ دے ټولونه نا خبره دی۔ نه ئے اوریدلی دی اونه ئے لیدلی دی۔ اوداسے په سورة فاطر(۱٤) اوسورة احقاف(٥) کښ هم دی اومفسر الوسی لیکلی دی چه دَ هغے حاصل دا دے چه بتان خو په هرسورت ناخبروی او هر چه ملائك دی نو هغه خولرے دی ځکه چه دے مشرکانودَ اسمانی ملائکوعبادت کړے دے په دلیل دَ سورة نجم (۲٦) سره اوهر چه اولیاء دی نو ځوك خو لرے وؤ دَ عابدانونه اودَ هغوی علم غیب نیشته اوځوك چه نزدے وؤ نو هغه مړه دی او مړے هیڅ خبره نه اوری لکه چه دا په تحقیق دَ سماع موتی کښ ذکرکیږی یا دا چه دَ مشرکانودَ شرك او دَ بدعاتو دَ اوازونو اوکارونو نه اللّٰه تعالیٰ هغوی لره ږے خبره ساتی دَ دے دپاره چه په حزن او غمونوکښ اخته نشی۔

[۳۰] دا هم متعلق دے دَ مخکښ آیت سره۔ حاصل دا دے چه کله دوی ته معلومه شوه په میدان حشرکښ، چه دا بزرګان ځمونږدَ عبادت نه ږے خبره وو نودغه وخت کښ دوی ته دَ خپلوعملونوخطائي معلومه شوه ﴿تَبْلُوْا﴾ بلاء امتحان او معلومیدلودَ حقیقت ته وئیلے شی یعنی دوی ته به معلومه شی چه دا عمل دَ خیراوکه دَ شروؤمقبول وؤاوکه مردود وؤ ﴿مَوْلٰىهُمُ﴾ دلته مولیٰ په معنیٰ دَ مالك دے اوسورة محمد(۱۱)کښ په معنیٰ دَ مددګاردے نوتعارض نیشته ﴿مَا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ﴾ دَ شرك دعوے او دلیلونه اوقصّے یا معبودان باطله۔

وَالْاَرْضِ اَمَّنْ يَّمْلِكُ السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ وَمَنْ يُّخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ وَمَنْ يُّدَبِّرُ الْاَمْرَ ؕ فَسَيَقُوْلُوْنَ اللّٰهُ ۚ فَقُلْ اَفَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿٣١﴾ فَذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمُ الْحَقُّ ۚ فَمَاذَا بَعْدَ الْحَقِّ اِلَّا الضَّلٰلُ ۖ فَاَنّٰى تُصْرَفُوْنَ ﴿٣٢﴾ كَذٰلِكَ حَقَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ عَلَى الَّذِيْنَ فَسَقُوْٓا اَنَّهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿٣٣﴾ قُلْ هَلْ مِنْ شُرَكَآئِكُمْ مَّنْ يَّبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ ؕ قُلِ اللّٰهُ يَبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ فَاَنّٰى

او دَزمکے نه او یاځوك اختیار مند دے دَغورېونو او دَسترګو اوځوك را اوباسي ژوندے دَ مرنه او رااوباسی مړ دَژوندی نه اوځوك انتظام کوی دَټولوکارونو پس اوبه وائی دوی چه اللّٰه تعالیٰ پس اُوایه ته آیا پس ځان نه بچ کوئ دَشرك نه (٣١) پس دغه صفتونو والا اللّٰه دے رب ستاسو دے په رشتیا پس نیشته پس دَپریخودلو دَحق نه مګر ګمراهی ده پس څنګه اړولے شئ تاسو دَحق نه (٣٢) دغسے پوره شوے ده فیصله دَ رب ستا په هغه چاچه نافرمان دی چه دوئ ایمان نه راوړی(٣٣) ته اُوایه آیاشته دے ستاسو دَمددګارونه هغه څوك چه اول پیدائش اوکړی بیادوباره پیدائش اوکړی (نیشته) ته اُوایه چه اللّٰه تعالیٰ اول پیدا کول کوی بیابه ئے دوباره هم کوی پس په څه وجه

[٣١] دَ دے ځائے نه دریم باب دے ترآیت (٥٤) پورے په دے کښ داسے عقلی دلیلونه پیش کوی چه مشرکان په هغے باندے اقرار کوی اوپه دے کښ په اتوآیتونوکښ زورنه ده او تسلی ده پیغمبرته اویره دَ عذاب دُنیوی اواُخروی ده دا آیت(٣١) دلیل دے پدے خبره چه مشرکانودَ عرب دَ اللّٰه تعالیٰ دا صفتونه منل چه رازق دے اومالك دَ غورېونواوسترګو دے پیداکوونکے دے، اودَ ټول عالم انتظام کوونکے دے۔ لیکن بیائیے هم هغه سره شرك کوؤپه عقیده دَ شفاعت قهریه۔ دَ دے آیت دَ دعوے دَ سورة سره مناسبت دا دے چه څوك خپل معبودان شفعاء منی نوهغوی اللّٰه تعالیٰ اودَهغه بعضِ صفتونه منی﴿مِنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ﴾ مراد دَ دے نه باران اوبوټی اوفصلونه پیدا کول دی ﴿السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ﴾ مراد دا دے چه طاقت دَ سمع اوبصرد چاپه اختیار کښ دے اوداسے په سورة انعام (٤٦) کښ دی ﴿الْحَيَّ﴾ حیوان، دَچرګواومرغوبجی اوفصلونه تازه، مؤمن، عالم ﴿الْمَيِّتِ﴾ نطفه، اګنی، زمکه، مشرك جاهل ﴿وَمَنْ يُّدَبِّرُ الْاَمْرَ﴾ الف لام استغراقی دی یعنی دَ ټول عالم انتظام اودا رد دے په عقیده دَ متصوفو باندے چه هغوی وائي دَ عالم انتظام قطب اوغوثان اوابدال وغیره چلوی اوپدے باره کښ هیڅ حدیث صحیح مرفوع موقوف نیشته کوم حدیث چه ابن عساکر نقل کړیدے هغه بے سنده دے اوحدیث دَ ابدال منقطع اوضعیف دے۔

[٣٢] دا نتیجه دَ محکښ آیت ده ﴿فَاَنّٰى تُصْرَفُوْنَ﴾ صرف ګرځیدلوته وئیلے شی معنیٰ داچه په کوم دلیل سره دَ حق نه باطل ته اودَ توحید نه شرك طرفته اوړئے او ګرځئے دا ایت دلیل دے پدے خبره باندے چه په مسائلودَ عقیده کښ یوطرفته حق وی نودَ هغے مقابل به خا مخا ګمراهی وی دواړه طرفونه حق نه شی کیدے اونه باطل۔ نن چه بعض خلق دَ ایمان اودَ عقیدے مسائل فرعی ګڼړی او وائي چه دا دواړه حق دی نودا لوئے جاهلان دی۔

[٣٣] دَ آیت مطلب دا دے چه هرکله دا مشرکان سرهٔ دَ پوهے نه په شرك باندے کلك دی نومعلومه شوه چه دَ دوی په باره کښ دا فیصله شویده چه دوی ایمان نه راوړی نو﴿اَنَّهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ﴾ تفسیردَ کلمة دے یا

تُؤْفَكُوْنَ ﴿٣٤﴾ قُلْ هَلْ مِنْ شُرَكَآئِكُمْ مَّنْ يَّهْدِيْٓ اِلَى الْحَقِّ ؕ قُلِ اللّٰهُ يَهْدِيْ لِلْحَقِّ ؕ اَفَمَنْ يَّهْدِيْٓ اِلَى
الْحَقِّ اَحَقُّ اَنْ يُّتَّبَعَ اَمَّنْ لَّا يَهِدِّيْٓ اِلَّآ اَنْ يُّهْدٰى ۚ فَمَا لَكُمْ ۫ كَيْفَ تَحْكُمُوْنَ ﴿٣٥﴾ وَمَا يَتَّبِعُ اَكْثَرُهُمْ اِلَّا
ظَنًّا ؕ اِنَّ الظَّنَّ لَا يُغْنِيْ مِنَ الْحَقِّ شَيْـًٔا ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌۢ بِمَا يَفْعَلُوْنَ ﴿٣٦﴾ وَمَا كَانَ هٰذَا الْقُرْاٰنُ اَنْ
يُّفْتَرٰى مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلٰكِنْ تَصْدِيْقَ الَّذِيْ بَيْنَ يَدَيْهِ وَتَفْصِيْلَ الْكِتٰبِ لَا رَيْبَ فِيْهِ مِنْ رَّبِّ

اوړيدے شئی تاسو دَتوحيد نه (٣٤) تهٔ اُوايه آياشته ستاسو دَمددګارونه چه رَسَول کولے شی حق ته(نيشته) تهٔ اُوايه اللّٰه تعالیٰ رَسَول کوی حق ته آياپس هغه څوك چه رَسَول کولے شی حق ته حقدار دے دَ دے چه تابعداری اوکړے شی دَحکمونو دَهغه يا هغه څوك چه نشی موندے لار مګر هغه وخت چه دهٔ ته خودنه اوشی پس څه دليل دے ستاسو څرنګ فيصلے کوئ بے دليله (٣٥) اونهٔ کوی تابعداری (په شرك کولو کښ) ډير دَ دے خلقونه مګر دَګمان يقيناً ګمان فائده نه ورکوی دَحق په باره کښ هيڅ يقيناً اللّٰه تعالیٰ پوهيری په هغے چه دوی څه کوی (٣٦) اونه دے داقرآن چه جوړ کړے شی دَطرف دَماسيوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه ليکن (نازل کړے شويدے) دپاره دَتصديق دَهغے کتابونو چه دَ دهٔ نه مخکښ دی او دَتفصيل دپاره دَفرض شؤو حکمونو نيشته هيڅ شك په دهٔ کښ دَ طرف دَرب

مراد دَکلمے نه وعده دَ عذاب ده او اَنَّهُم په تقديردَ لام سره علت دَ حَقَّت دے۔

[٣٤] دا رد دے په مشرکينو چه دَ هغی شرکاء هيڅ پيدائش نشی کولے نو دوی په څه وجه دَ اللّٰه تعالیٰ سره شريك کړهٔ ﴿فَاَنّٰى تُؤْفَكُوْنَ﴾ صَرف په معنیٰ دَ اوړيدلو دے دَ يوحال نه بل حال ته مطلق څنګه چه مخکښ ذکر شو او افك په معنیٰ دَ اوړيدلو دے خاص دروغو طرف ته۔

[٣٥] دا هم رد دے په مشرکينو چه ستاسوشرکاء حق طرف ته رسَوَل نه شی کولے حق ته رَسَوَل صرف اللّٰه تعالیٰ کوی نو هغوی موپه څه وجه اللّٰه تعالیٰ سره شريکان کړل ۔ مخکښ ايت کښ رد دے په مشرکين بالعباد الصالحين باندے او په شرك فی الالوهية باندے اوپدے ايت کښ رد دے په شرك فے الحکم باندے چه مشرکين بالاحبار والرهبان دی يعنی ستاسوشرکاء چه پيران اوملايان ګمراه دی حق طرف ته هدايت نشی کولے بلکه هغوی په اهتداء کښ اللّٰه تعالیٰ ته محتاج دی او دليل پدے باندے لفظ دَ اَن يُّتَّبَعَ دے ځکه چه هدايت اواتباع دَ بتانودَ شان سره مناسب نه ده ﴿اِلَى الْحَقِّ﴾ او لِلْحَقِّ کښ فرق دا دے چه اول نه مراد حق طرف ته لاره خودل دی اودَ دويم نه مرادپه حقه لاره باندے روانول دی۔ داسے په تفسيردَ هدايت کښ په سورهٔ فاتحه کښ تير شويدے۔بيا اول قسم خومخلوق کولے شی اودويم قسم مخلوق نشی کولے دَ دے وجے نه ئے دَشرکاء سره اِلَیَ اودَ اللّٰه تعالیٰ سره لام ذکرکړو ﴿كَيْفَ تَحْكُمُوْنَ﴾ يعنی اتباع دَ دين دَ اللّٰه تعالیٰ پريږدئے او اتباع دَ ګمراهانو کوئے۔

[٣٦] مخکښ ايت کښ رد ووڑ په صرف تقليد دَګمراهانوباندے چه دا دَ اهل ضلالت کاردے نواوس ردکوی په اتباع دَ ظنياتوباندے چه داهم دَ ګمراهانو کار دے چه هغوی سره دليل صرف ظن دے يقينی دليل ورسره نيشته اوپه ګمان سره يقين نشی ثابت کيدے ﴿اَكْثَرُهُمْ﴾ اکثرئے دَ دے وجے نه اُوئيل چه بعضِ خوپه ﴿هَوَا﴾ (خواهش) پسے روان وی۔ اواکثرپه ظن پسے روان وی يا دَ دے اکثرنه مراد دَ دوی مشران

الْعٰلَمِيْنَ ﴿٣٧﴾ اَمْ يَقُوْلُوْنَ افْتَرٰىهُ ؕ قُلْ فَاْتُوْا بِسُوْرَةٍ مِّثْلِهٖ وَادْعُوْا مَنِ اسْتَطَعْتُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿٣٨﴾ بَلْ كَذَّبُوْا بِمَا لَمْ يُحِيْطُوْا بِعِلْمِهٖ وَلَمَّا يَاْتِهِمْ تَاْوِيْلُهٗ ؕ كَذٰلِكَ كَذَّبَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٣٩﴾ وَمِنْهُمْ مَّنْ يُّؤْمِنُ بِهٖ وَمِنْهُمْ مَّنْ لَّا يُؤْمِنُ بِهٖ ؕ

الظلمين نه دے (٣٧) آيا وائی دوئ چه دا قرآن ئے دَځان نه جوړ کړيدے تهٔ اُوايه پس راوړئ يو سورة دَ دهٔ په شان اوراوبلئے هغه ځوك چه طاقت لرئ (دَبلنے دَهغوی) سيوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه كه ئے تاسو رشتينے (٣٨) بلكه دوئ دروغژن ګڼړی (قرآن) په سبب دَ دے چه دوی نه دے حاصل کړے علم دَ دے اوتراوسه نه دے راغلے دوئ ته عاقبت دَنه منلو دَ قرآن د غسے دَ دروغو نسبت کؤو هغه کسانو چه دَ دوی نه مخكښ وو (دَرسولانو خپلو)پس اوګوره چه څرنګ شو انجام دَظالمانو (٣٩) او بعضے دَ دوی نه هغه ځوك دی چه ايمان راوړی په قرآن اوبعضے دَ دوئ هغه ځوك چه نهٔ لری ايمان په دے قرآن

دی داسے خازن ذکرکړی دی حاصل دا دے چه دامشرکان چه خپل معبودان شفعاء ګڼړی اودَ هغوی بندګی کوی نودا ظن دے ځکه چه په وحی کښ پدے باندے هيڅ دليل نيشته دلته مراد دَ ظن نه شك دے (بے دليله خبرے) يا مراد دَ ظن نه دليل ظنی دے اګرچه شرعی وی اودَ حق نه مراد عقيده ده او په دليل ظنی شرعی سره نور احكام ثابتيږی ليكن عقيده په هغے سره نه ثابتيږی او داسے په سورة نجم (٢٨) كښ ذكر دی۔

فائده: دا آيت دليل دے په دے خبره چه دليل ظنّی په باب دَ عقائدو كښ نه كافی كيږی داسے تفسير قرطبی كښ ليكلی دی۔

[٣٧] په دے آيت كښ صدق دَ قرآن پاك دے په ذكرد پنځو صفاتوسره اول دا چه دا افتراء نه ده، دويم دا چه تصديق دے دَ محكمين كتابونو دريم دا چه تفصيل دے دَ احكام ضروريو، څلورم دا چه بے شكه دے، پنځم دا چه دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه دے اوربط ئے دَ محكمين آيت سره دا دے چه ظنيات پريږدئے اودليل يقينی ته راشئ چه قرآن كريم دے ﴿تَصْدِيْقَ﴾ دَ دے نه محكمين لفظ دَ كان يا انزل پټ مراد دے۔

[٣٨] په دے ايت كښ زورنه ده منكرينودَ قرآن ته په طريقه دَ طلب دَ مقابلے دَ قرآن دَ يو سورة اودے ته تحدی وئيلے شی اوپه دے كښ اثبات دَ اعجازدَ قرآن دے ﴿مِثْلِهٖ﴾ ضمير راجع دے قرآن ته اومماثلت په فصاحت بلاغت اوخائسته ترتيب اوصدق او رشتينے پيشګوئی كښ دے اوسورة بقره كښ مِن مِثلِهِ ځكه ذكر دے چه هلته احتمال وؤ چه ضمير راجع شی عَبد ته يا هلته مراد دَ قبل نه تورات او انجيل وؤ۔

[٣٩] پديكښ روستودَ اثبات دَ اعجاز دَ قرآن نه زورنه ده منكرينودَ قرآن ته اودَ هغے انكارئے دوه وجے بيان كړيدی۔ يو داچه دوی دَ قرآن په مقصد باندے نه دی پوهه نوځكه ئے نه منی اوداسے په سورة نمل (٨٤) اوسورة احقاف (١١) كښ دی دويم داچه دوی ته دَ انكاركولو انجام نه دے ښكاره شوے چه هغه عذاب دے ځكه دوی انكار كوی ﴿لَمْ يُحِيْطُوْا بِعِلْمِهٖ﴾ باء زائده ده اودا مفعول دَكذبوا دے يا با سببيه ده اومفعول پټ دے يعنی القرآن اودَ دے مراد دا دے چه هيڅوك دَ قرآن په علمونوباندے احاطه نشی كولے۔ دويم مراد دا دے چه قرآن كښ دَ جنت جهنم وغيره ذكر دے چه هغه تراوسه پورے دَ دوی په علم كښ نه دی راغلی۔ دريم مراد دا چه په قرآن كښ هغه علوم اومسائل دی چه دَ دوی په علم كښ تراوسه پورے نه

وَرَبُّكَ أَعْلَمُ بِالْمُفْسِدِيْنَ ﴿٤٠﴾ وَإِنْ كَذَّبُوْكَ فَقُلْ لِّيْ عَمَلِيْ وَلَكُمْ عَمَلُكُمْ ۚ أَنْتُمْ بَرِيْٓـُٔوْنَ مِمَّآ أَعْمَلُ وَأَنَا بَرِيْٓءٌ مِّمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿٤١﴾ وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّسْتَمِعُوْنَ إِلَيْكَ ط أَفَأَنْتَ تُسْمِعُ الصُّمَّ وَلَوْ كَانُوْا لَا يَعْقِلُوْنَ ﴿٤٢﴾ وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّنْظُرُ إِلَيْكَ ط أَفَأَنْتَ تَهْدِي الْعُمْيَ وَلَوْ كَانُوْا لَا يُبْصِرُوْنَ ﴿٤٣﴾ إِنَّ اللّٰهَ لَا يَظْلِمُ

اورب ستابنه پوهه دے په حال دَفساد کوونکو (٤٠) او که دوئ تادروغژن ګنړی پس اُوایه ځما دپاره بدله دَعمل ځما ده (چه دعوت دَحق دے) اوتاسولره بدله دَعمل ستاسو ده (چه انکار دے) تاسو خلاص ئے دَهغے عمل نه چه ځه کوم اوځه خلاص یم دَهغے عملونونه چه تاسو ئے کوئ (٤١) اوبعضے دَ دوئ نه هغه څوك دی چه غوږ ږدی تاته آیا پس ته اورول کولے شے کنړوته اوحال داچه دوئ عقل نه لری (٤٢) اوبعضے دَ دوئ نه هغه څوك دی چه ګوری تاته آیاپس ته خودنه کولے شے ړندوته اوحال داچه نه پوهیږی(٤٣) یقیناً اللّٰه تعالیٰ نه کوی ظلم

وؤ راغلی اودوی نه دی اوریدلی اومثل مشهور دے چه (اَلنَّاسُ اَعْدَاءٌ لِمَاجَهِلُوا) خلق چه په کوم څیز نه پوهیږی نو دُشمنی ورسره کوی ﴿وَلَمَّا يَأْتِهِمْ تَأْوِيْلُهٗ﴾ ضمیر راجع دے قرآن ته اوتاویل نه مراد تفسیرد قرآن دے یعنی دوی تدبر اوسوچ په معنیٰ دَ قرآن کښ نه دے کړے بلکه په تقلید دَ مشرانو سره ئیے تکذیب کړے دے دا معنیٰ تفسیر مدارك ذکر کړے ده دویم داچه ضمیر تکذیب ته راجع دے اوتاویل په معنیٰ دَ عاقبت سره دے یعنی عذاب دَ تکذیب۔

[٤٠] دے ایت کښ هم زورنه ده منکرینوته اودلیل دے په دے باندے چه څوك دَ قرآن نه انکارکوی نوهغه مفسد دے ﴿يُؤْمِنُ اوَلَا يُؤْمِنُ﴾ داخویا په معنیٰ دَ مستقبل سره دی یا په معنیٰ دَ ماضی سره دی۔

[٤١] په دے کښ تسلی ده پیغمبرته مطلب ئیے دا دے که دوی ستا خبره نه منی نو دَ دوی نه اعلان دَ برائت او کړه او هرکله چه په ایت کښ مقصد تخصیص دَ هر شخص په جزاء دَ خپل عمل سره دے نودَ دے دَ ایت دَ قتال سره هیڅ تعلق نیشته نوهغه قول دَ بعض مفسرینو صحیح نه دے چه وائي چه دا ایت منسوخ دے په ایاتونودَ قتال سره۔

[٤٢] په دے ایت کښ هم زورنه ده منکرینوته چه دوی قرآن ته غوږ ګدی لیکن دَ زړه په غوږ ئیے نه اوری اوپه دے کښ تسلی هم ده پیغمبرته ﴿وَلَوْ كَانُوْا لَا يَعْقِلُوْنَ﴾ دَ دے نه محکښ تقدیردَ عبارت داسے دے چه کونړسړے چه عقل لری نوهم خبره نه اوری نوکله چه بے عقله هم وی نوهغه به څه واوری۔ ﴿يَسْتَمِعُوْنَ﴾ دا استماع (اوریدل) په قصد دَ اعراض اواستهزا کولوده ﴿الصُّمَّ﴾ په دیکښ تشبیه دَ ضدیانوده دَ کنړو سره لکه کنړهم نه اوری نو فائده نه شی اخستلے نو دارنګ دوی هم داسے اوریدل نه کوی چه فائده پرے واخلی۔

[٤٣] په دے آیت کښ هم زورنه ده منکرینوته چه دوی تاته په ظاهری سترګونظرکوی ستا دَ یره ولو دپاره لیکن دَ دوی دَ زړه سترګے ړندے دی اوپه دے کښ هم تسلی ده پیغمبرته په دے دواړوآیتونوکښ دَکافرانوتشبیه ئیے ورکړے ده دَکنړو او ړندو سره لکه چه کونړهیڅ نه اوری او ړوند هیڅ نه وینی نودارنګے داکافردَ حق نه کانړه او ړانده دی ﴿وَلَوْ كَانُوْا لَا يُبْصِرُوْنَ﴾ تقدیردَ عبارت داسے دے چه ړوند سړے څه وینی نه اګرچه دَ زړه بصیرت ئیے وی نو هرکله چه دَزړه بصیرت ئیے هم نه وی نو هغه به څه اوینی۔

النَّاسَ شَيْـًٔا وَّلٰكِنَّ النَّاسَ اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿٤٤﴾ وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ كَاَنْ لَّمْ يَلْبَثُوْٓا اِلَّا سَاعَةً مِّنَ
النَّهَارِ يَتَعَارَفُوْنَ بَيْنَهُمْ ؕ قَدْ خَسِرَ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِلِقَآءِ اللّٰهِ وَمَا كَانُوْا مُهْتَدِيْنَ ﴿٤٥﴾ وَاِمَّا نُرِيَنَّكَ
بَعْضَ الَّذِيْ نَعِدُهُمْ اَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَاِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ ثُمَّ اللّٰهُ شَهِيْدٌ عَلٰى مَا يَفْعَلُوْنَ ﴿٤٦﴾ وَلِكُلِّ اُمَّةٍ

په خلقو هیڅ ظلم لیکن خلق په خپلو ځانونو ظلم کوی (٤٤) اوپه کومه ورځ چه راجمع به کړی دوئ لره (دوی به ګمان او کړی) ګویا نه وو حصار شوی دوئ مګر یوساعت دَ ورځے نه پیژندګلی به کوی په مینځ خپل کښ یقیناً تاوان والادی هغه کسان چه دروغژن ګنړی پیش کیدل اللّٰه ته اونه دی دوئ لارموندونکی (٤٥) اوکه اوښایو مونږ تاته بعضے هغه عذاب چه وعده کوو دَ دوئ سره یاوفات کړو تاله (مخکښ دَ عذاب دَ دوینه)پس ځما طرف ته راګرځیدل دَ دوئ دی بیا اللّٰه تعالیٰ خبر دے په هغه کارونو چه دوئ ئے کوی (٤٦) اودَ هر امت دپاره

[٤٤] دا جواب دَ یوسوال دے۔ سوال دا وؤچه دوی نه طاقت دَ اوریدلو اودَلیدلو اخستل آیا دا ظلم نه دے؟ حاصل جواب دا دے چه دا ظلم نه دے ځکه چه اللّٰه تعالیٰ په چا هیڅ ظلم نه کوی بلکه هغه په خپل ملکیت کښ تصرف کوی چه څنګه اوغواړی۔ اودا عدل دے اودارنګ اللّٰه تعالیٰ دے خلقوته اسباب دَ فائدے ورکړی دی چه غوږونه سترګے اوعقل دے لیکن دَ دوی ظلم کول دا دے چه دوی دَ هغے نه فائدے نه اخلی۔

[٤٥] په دے آیت کښ یره اخروی ده۔ مقصد ئے دا دے چه دَ قیامت دومره هیبت دے چه دَ هغے دَ وجے نه دامنکرین خلق دَ دنیا عمریوساعت قدرے به اوګنړی ﴿يَتَعَارَفُوْنَ بَيْنَهُمْ﴾ مراد دَ دے تعارف نه هغه تعارف دے چه دَ هغے په وجه به یوبل ته ملامتیا او زورنه ورکوی۔ اودا تعارف په بعضِ حالاتو کښ دے اوبیا به دا تعارف دَ ډیر هیبتونو دَ وجے نه منقطع شی یا مراد دا چه داسے تعارف به نه وی چه یوبل ته فائده ورکوی صرف تعارف دَ ملامته کولوبه وی ﴿اِلَّا سَاعَةً﴾ دا ګمان دَ دوی دَ هیبتونودَ ورځ دَ حشرنه دے یا دَ دے وجے چه دوی خپل عمر برباد کړے وؤ اودَ اخرت دپاره ئے هیڅ عمل نه وؤکړے نودَ دوی عمرداسے شولکه چه یوساعت وی ﴿قَدْ خَسِرَ الَّذِيْنَ﴾ دا علت دَ ماقبل دے یعنی سبب دَ دے هیبتونوتکذیب دَ قیامت اونیشتوالے دَ هدایت دَ توحید دے۔

[٤٦] دے آیت کښ تسلی ده پیغمبرته اویره ورکول دی منکرینوته مقصد دا دے یا به مونږپه دوی باندے په دنیاکښ عذاب راولونوته به ئے اوینے اوکه په دُنیاکښ عذاب رانه ولونوقیامت کښ به خامخا په دوی باندے عذاب وی نو ته دَ دوی دَ عذاب نه بے غمه اوسه ﴿ثُمَّ اللّٰهُ شَهِيْدٌ﴾ په دے کښ اشاره ده دیته چه دَ دوی په عملونوباندے نورو ګواهانوته حاجت نیشته اللّٰه تعالیٰ پخپله خبردے ﴿وَاِمَّا نُرِيَنَّكَ﴾دپاره جزاپته ده یعنی(ستاتسلی به اوشی) وامایتوفینك جزاء هم پته ده یعنی(اوبه وینی په اخرت کښ) ﴿فَاِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ﴾ داعلت دپته جزاء دے اوداسے په سورة مؤمن (٧٧) اوسورة زخرف (٤١، ٤٢) کښ هم راغلی دی۔

فائده: په دے آیت کښ دَ نرینك مقابله ده دَ نتوفینك سره دَ دے نه معلومیږی چه پس دَ وفات نه دَ دنیا حالات نه لیدلے کیږی۔

رَّسُوْلٌ ۚ فَاِذَا جَآءَ رَسُوْلُهُمْ قُضِيَ بَيْنَهُمْ بِالْقِسْطِ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿٤٧﴾ وَيَقُوْلُوْنَ مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ
اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿٤٨﴾ قُلْ لَّآ اَمْلِكُ لِنَفْسِيْ ضَرًّا وَّلَا نَفْعًا اِلَّا مَا شَآءَ اللّٰهُ ۭ لِكُلِّ اُمَّةٍ اَجَلٌ ۭ
اِذَا جَآءَ اَجَلُهُمْ فَلَا يَسْتَاْخِرُوْنَ سَاعَةً وَّلَا يَسْتَقْدِمُوْنَ ﴿٤٩﴾ قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ اَتٰىكُمْ عَذَابُهٗ

رسول دے (گواهی کوونکی په دوی په ورځ دقیامت) پس هرکله چه راشی رسول د دوئ (دپاره دګواهئ) فیصله به اوشی په مینځ د دوی کښ په انصاف سره اوپه دوی به هیڅ ظلم نه شی کیدے (٤٧) او دوی وائی چه کله به وی دا وعده که ئے تاسو رشتینی(٤٨) اُوایه ته ځه نه لرم اختیار دځان دپاره دهیڅ ضرر لرکولو اونه دفائدے حاصلولو لیکن هغه چه اوغواړی اللّٰه تعالیٰ (نو هغه کوی) دهر یو(نه منونکی) اُمت دپاره یو نیټه ده (دعذاب) کله چه راشی دانیټه د دوئ پس نه به روستو کیدے شی یو ساعت اونه به مخکښ کیدے شی (٤٩)ته اُوایه آیا فکر کړیدے تاسو که راشی تاسوته عذاب د اللّٰه تعالیٰ

[٤٧] دا دَیرے اُخروی سره تعلق ساتی د دے آیت یوتفسیر دا دے چه د هر تیرشوی امت دپاره رسول وؤنوکله چه په ورځ د قیامت هغه رسول حاضرشی اوشهادت ورکړی په امت باندے نودوی له به عذاب ورکیدے شی۔ دویم تفسیردا دے چه د هرأمت دپاره رسول وؤ مقررشوے د اللّٰه تعالیٰ د طرف نه، نوکله به چه دا رسول دویته راغے په دنیاکښ نودوی به انکار اوکړونو په دوی به عذاب راغے۔ بنا په دویم تفسیر دے آیت کښ یره د عذاب دنیوی ده۔

[٤٨] دے آیت کښ زورنه ده منکرینوته چه هرکله مخکښ آیت کښ اشاره اوشوه عذاب ته نودوی تپوس اوکړوپه طریقه د انکارچه د دغے عذاب نیټه مونږته اوښایه ﴿صٰدِقِيْنَ﴾ جمع ئے ذکرکړے دے ځکه چه خطاب نبی اومؤمنانو ته دے۔

[٤٩] دا جواب دے د مخکښ قول د منکرینو، حاصل د جواب دا دے چه ځه ځان لره اختیارد نفعے، ضررنه لرم نوعلم د تاریخ د عذاب دَراتلولرے خبره ده۔ لیکن دومره معلومه ده چه عذاب لره نیټه مقرره چه د هغے نه، نه روستو کیدے شئے اونه مخکښ کیدے شئے۔

نکته: داسے مضمون والا آیت سورة اعراف (١٨٨) آیت کښ هم تیرشوے دے۔ صرف فرق دا دے چه هلته نفع مخکښ ذکرکړے ده اودلته کښ ضرر مخکښ ذکرکړیدے نو وجه دا ده چه هلته کښ د علم د قیامت خبره وه اوعلم نفع ده اودلته کښ د عذاب ذکر وؤ اوعذاب ضرر دے۔ نوهرآیت کښ د هغه ځائے مناسب لفظ مخکښ راوړے شوے دے۔

فائده: جواب د مخکښ په سورة ملك (٢٦)کښ اوپه سورة یٰس (٤٩)کښ په بله طریقه سره ذکرکړیدے اودلته بله طریقه ده وجه دا ده چه دلته مقصد د دوی اعتراض وؤپه رسالت د رسول باندے نوپه جواب کښ شان د رسول ئے ذکرکړو اوپه هغه دواړه سورتونوکښ مقصد اخبار د عذاب دے نوهلته د هغے مناسب ذکر اوکړو ﴿اِذَا جَآءَ اَجَلُهُمْ﴾ دا سے په سورة نحل (٦١) او سورة اعراف (٣٤)کښ ذکر دی۔

بَيَاتًا اَوْ نَهَارًا مَّا ذَا يَسْتَعْجِلُ مِنْهُ الْمُجْرِمُوْنَ ﴿٥٠﴾ اَثُمَّ اِذَا مَا وَقَعَ اٰمَنْتُمْ بِهٖ ؕ آٰلْـٰٔنَ وَقَدْ كُنْتُمْ بِهٖ
تَسْتَعْجِلُوْنَ ﴿٥١﴾ ثُمَّ قِيْلَ لِلَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ذُوْقُوْا عَذَابَ الْخُلْدِ ۚ هَلْ تُجْزَوْنَ اِلَّا بِمَا كُنْتُمْ تَكْسِبُوْنَ ﴿٥٢﴾
وَيَسْتَنْۢبِـُٔوْنَكَ اَحَقٌّ هُوَ ؕ قُلْ اِيْ وَرَبِّيْٓ اِنَّهٗ لَحَقٌّ ؕ وَمَآ اَنْتُمْ بِمُعْجِزِيْنَ ﴿٥٣﴾ وَلَوْ اَنَّ لِكُلِّ نَفْسٍ ظَلَمَتْ

دَشپے یا دَ ورځے نوځه تدبیر دے چه زربه اوکړی هغے لره مجرمان (دپاره دَځان بچ کولو)(۵۰) آیا بیا کله چه راشی دا عذاب نو ایمان به راوړئ تاسو په دے،آیااوس ایمان راوړئ، اوپه تحقیق سره وئ تاسو چه داهم په تلوار غوښتو(۵۱) بیابه اُوئیلے شی ظالمانوته اوځکئ عذاب دَهمیشوالی نه شی درکیدلے تاسوته بدله مګر دَهغه عمل چه تاسو کؤو (۵۲) اوتپوس کوی دوی ستانه آیا حق دے داعذاب دَقیامت ته اُوایه هاؤ قسم دے په رب ځما یقیناً دا خامخا حق دے اونه ئے تاسو بچ کوونکی ځان لره دَ دے عذاب نه (۵۳) اوکه شی دپاره دَ هر نفس چه ظلم ئے کړے دے

[۵۰] په دے آیت کښ زورنه ده منکرینوته سرهٔ دَ یرے ورکولودَ عذاب نه۔ اومتعلق دے دَ طلب دَ عذاب سره یعنی دَ هغے دویم جواب دے حاصل ئے دا دے چه کله عذاب دَ اللّٰه تعالیٰ دَ شپے یا دَ ورځے راشی نودا منکرین به دَ هغے دَ دفعه کولودپاره سمدستی څه تدبیر اوکړی ﴿مَاذَايَسْتَعْجِلُ مِنْهُ الْمُجْرِمُوْنَ﴾ دَ دے یومعنیٰ دا ده چه څومره لوئے عذاب دے چه په تلوارسره طلب کوی مجرمان هغے لره دَ اللّٰه تعالیٰ نه۔ اوپدے توجیه سره جزاء دَ شرط محذوف ده (بښیمانه به شی په استعجال باندے) په دے معنیٰ سره ضمیرد مِنه راجع دے اللّٰه تعالیٰ ته۔ دویمه معنیٰ دا ده چه څه تدبیردے چه زربه ئے اوکړی مجرمان دپاره دَ بچ کیدلو دَ عذاب نه اوپه دے معنیٰ سره ضمیر دَ منه راجع دے لفظ دَ ماذا ته۔

[۵۱] دا آیت هم دَ مخکښ سره تعلق لری مطلب ئے دا دے که دوی دَ عذاب دَ دفع کولودپاره دا تدبیر اوکړی چه هغه وخت ایمان راوړی نوملائك به دوی ته جواب اوکړی چه آیا اوس ایمان راوړئ۔ اوحال دا دے چه په دے وخت کښ ایمان نه قبلیږی ﴿آٰلْـٰٔنَ﴾ دَ دے نه مخکښ عبارت پټ دے یعنی (اوبه وئیلے شی دوی ته) اوداسے په دے سورة (۹۱) کښ دی۔

[۵۲] دے آیت کښ یره دَ عذاب دنیوی ده که چرے دَ عذاب دَ خلد نه مراد عذاب دَ دُنیا شی اودَ مخکښ آیت سره مناسبت لری اوعذاب دنیوی خلد ته هله وئیلے شی چه په هغه عذاب کښ هلاك شی۔ اویا یره اُخروی ده که چرے عذاب دَ خلد نه مراد عذا ب دَ اخرت شی۔

[۵۳] دا زورنه ده منکرینودَ عذاب اودَ قیامت ته لکه چه په مخکښ آیت کښ ذکرشول اوپه دے آیت کښ قسم کړیدے اللّٰه تعالیٰ پخپل ذات باندے په باره دَ راتلودَ قیامت کښ اودارنګے قسم به سورة مریم آیت (٦٨)کښ او سورة سبا آیت (۳)کښ اوسورة تغابن آیت (۷)کښ راځی۔ هوضمیر راجع دے هغه عذاب ته چه وعده ئے کړے شویده چه عذاب الخلد دے په ورځ دَ قیامت﴿بِمُعْجِزِيْنَ﴾ لازمی دے په معنیٰ دَ بچ کیدونکی دَ عذاب نه یا متعدی دے بچ کوونکے ځان لره۔ اوعاجزکیدل دَ یوځیز نه چه لازم دی دَ هغے سره فوت کیدل۔

مَا فِي الْاَرْضِ لَافْتَدَتْ بِهٖ ؕ وَاَسَرُّوا النَّدَامَةَ لَمَّا رَاَوُا الْعَذَابَ ۚ وَقُضِيَ بَيْنَهُمْ بِالْقِسْطِ
وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿٥٤﴾ اَلَآ اِنَّ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ اَلَآ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ وَّلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا
يَعْلَمُوْنَ ﴿٥٥﴾ هُوَ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿٥٦﴾ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَآءَتْكُمْ مَّوْعِظَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ
وَشِفَآءٌ لِّمَا فِي الصُّدُوْرِ ۙ وَهُدًى وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٥٧﴾ قُلْ بِفَضْلِ اللّٰهِ وَبِرَحْمَتِهٖ فَبِذٰلِكَ

هغه څه چه په زمکه کښ دی خامخا بدله به ورکوی دے په هغے سره اوپټوی به دوی پښیمانتیا هرکله چه اُوینی دوی عذاب لره او فیصله به اوکړے شی په مینځ دَ دوئ کښ په انصاف سره اوپه دوی به هیڅ ظلم نه شی کیدے (٥٤) خبردار یقیناً خاص اللّٰه تعالیٰ لره دے اختیار دَهغه څیزونو چه په آسمانونو اوپه زمکه کښ دی خبردار یقیناً وعده دَ اللّٰه تعالیٰ یقینی ده اولیکن اکثر دَخلقونه نه پوهیږی (٥٥) خاص اللّٰه تعالیٰ ژوندی کول کوی اومړه کول کوی اوخاص هغه ته به اوګرځولے شئے تاسو (٥٦) اے خلقو یقیناً راغلے دے تاسوته وعظ دَطرف دَرب ستاسونه اوشِفا دَهغه مرضونو چه په سینوکښ دی او هدایت اورحمت دے دپاره دَ مؤمنانو (٥٧)تهٔ اُوایه په فضل دَ اللّٰه تعالیٰ اوپه رحمت دَهغه سره پس په دے

[٥٤] په دے آیت کښ هم یره اُخروی ده چه کله قیامت قائم شی نومشرکان نه په فدیه ورکولو خلاصیږی اونه په پښیمانه کیدلوسره۔

فائده: لفظ دَ اسرّو، دَ اضدادونه دے، یعنی دَ دے دوه معنے دی چه دَ یوبل ضد دی۔ یومعنیٰ دا ده چه پټه به کړی دا مشران دَ مشرکینوپښیمانتیا لره دَ خپلوتابعدارونه لیکن دا هغه وخت چه لا اُورته نه وی داخل شوی۔ دویمه معنیٰ دا ده چه ښکاره به کړی دوی پښیمانتیا لره ځکه چه دوی عذاب وینی اوهیبت به پرے راشی ﴿لَافْتَدَتْ بِهٖ﴾ دَ دے نه روستوما تقبل منها (قبول به نه کړے شی) پټ دے لکه چه په سورة العمران (٩١) اومائده (٤١) کښ دی۔

[٥٥] دَ دے ځائے نه دویمه حصه دَ سورة ده تراویا (٧٠) آیت پورے په دے کښ رد دَ شرك فعلی دے، دارنګ رد دے په اتخاذ الولد باندے اوعقلی دلیلونه دی چه کارساز اوغیب دان صرف اللّٰه تعالیٰ دے اوترغیب دے قرآن کریم ته اوبشارت دے ایمان والوته۔ دا آیت(٥٥) دلیل عقلی دے چه واکدارد هرڅه اللّٰه تعالیٰ دے۔ اودَ دے په دویمه جمله کښ اثبات دَ بعث بعد الموت دے اومراد ﴿وَعْدَاللّٰهِ﴾ نه هغه ده چه تیرشوی درے آیاتونو کښ ذکرشویده او ﴿لِلّٰهِ مَافِي السَّمٰوٰتِ﴾ هم دلالت کوی په فدیه نه قبلولو باندے۔

[٥٦] دا دلیل عقلی دے اختیارمند دَ ژوند اودَ مرګ اللّٰه تعالیٰ دے اوپه اخری جمله کښ اثبات دَ قیامت دے۔

[٥٧] په دے آیت کښ ترغیب دے قرآن پاك ته هرکله چه محکښ دَ عذاب اودَ قیامت ذکر اوکړے شونودَ هغے نه دَ بچ کیدلودپاره ذریعه ذکرکړله چه قرآن دے اودَ قرآن ئے څلور صفات ذکرکړی دی۔ اول موعظه، یعنی منع کوونکے دَ بدواخلاقونه وعظ زجردے چه ورسره تخویف وی (خازن) دویم شفاء یعنی علاج دَ مرضونودَ زړه شرك اونفاق اوشك اوبغض وغیره اودے دواړوته صفات تخلیه وائي۔ اودریم هدیٰ، دے یعنی خودونکے دَ خائسته عقائدو اواعمالو۔ څلورم رحمت دے یعنی سبب دَ نرم والی دَ زړه دے اونزول دَ رحمت الٰهی دے دَ ایمان والودپاره اودے دواړوته صفات تحلیه اوتجلیه وائي۔

فَلْيَفْرَحُوْا ؕ هُوَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُوْنَ ﴿۵۸﴾ قُلْ اَرَءَيْتُمْ مَّاۤ اَنْزَلَ اللّٰهُ لَكُمْ مِّنْ رِّزْقٍ فَجَعَلْتُمْ
مِّنْهُ حَرَامًا وَّحَلٰلًا ؕ قُلْ آٰللّٰهُ اَذِنَ لَكُمْ اَمْ عَلَى اللّٰهِ تَفْتَرُوْنَ ﴿۵۹﴾ وَمَا ظَنُّ الَّذِيْنَ يَفْتَرُوْنَ عَلَى
اللّٰهِ الْكَذِبَ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَذُوْ فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَشْكُرُوْنَ ﴿۶۰﴾ ع
وَمَا تَكُوْنُ فِيْ شَاْنٍ وَّمَا تَتْلُوْا مِنْهُ مِنْ قُرْاٰنٍ وَّلَا تَعْمَلُوْنَ مِنْ عَمَلٍ اِلَّا كُنَّا عَلَيْكُمْ

دے خوشحاله شی خلق دا غوره دے دَهغه مال نه چه جمع کوی ئے خلق (۵۸) اُوایه آیا فکر کړے دے تاسو چه هغه څه چه پیدا کړیدے اللّٰه تعالیٰ ستاسو دپاره څه رزق حلال پس جوړوئ تاسو بعضے دَهغے نه حرام اوبعضے حلال اُوایه ته آیا اللّٰه تعالیٰ اجازت کړیدے تاسوته (دَحرام حلال جوړولو) بلکه په اللّٰه باندے دروغ جوړوئ (۵۹) اوځه ګمان دے دَهغے کسانو چه جوړوی په اللّٰه تعالیٰ باندے دروغ (چه څه به اوکړیشی دوی سره) په ورځ دَقیامت کښ یقیناً اللّٰه تعالیٰ فضل والادے په خلقوباندے لیکن ډیر خلق شکر نه کوی (۶۰) اونه ئے ته په څه حال کښ اونه لولے ته دَ اللّٰه تعالیٰ دَطرف نه څه قرآن اونه کوئ تاسو څه کارونه مګر یومونږه په تاسو باندے

فائده هرکله چه ضروری اواولاً دفع دَ ضرر وی اوهغه په موعظة اوشفاء کښ دی نوهغه ئے مخکښ کړل په صفتونودَ نفع ورکولوباندے چه هغه هدیٰ اورحمة دے اوصفتونه دَ دفعے دَ ضررهم دوه قسمه وی یوهغه چه دَ ضررنه منع کوی دویم هغه چه شته ضرر لرے کوی نو اول ته اشاره ده په موعظة اودویم ته اشاره ده په شفاء سره۔

[۵۸] دا هم ترغیب دے قرآن ته ﴿فَبِذٰلِكَ﴾ اشاره ده مجموعه فضل او رحمت ته او په دے کلام کښ اختصار دے اصل داسے دے چه (فَبِذٰلِكَ يَفْرَحُوْا فَلْيَفْرَحُوْا بِذٰلِكَ) اوتکراردَ ډیرتاکید دپاره دے۔ مراد دَ فضل اللّٰهِ نه قرآن دے اومراد دَ رحمت نه توحید اوسنت دے چه دا دواړه سبب دَ خوشحالئ دی دپاره دَ ایمان والودے وجے نه حدیث کښ راغلی دی چه رسول اللّٰهﷺ فرمائی: هغه څوك چه هغه ته اللّٰه تعالیٰ هدایت اوکړی دَ اسلام اوعلم ورته ورکړی دَ قرآن بیادے مخلوق ته شکایت کوی دَ خپلے لوګے نواللّٰه تعالیٰ به دَ دهٔ دَ دواړوسترګوترمینځه فقیری اولیکلی ترمرګه پورے۔ دویم قول دا دے چه مراد دَ فضل نه قرآن دے اومراد دَ رحمت نه دا دے چه اللّٰه تعالیٰ څوك دَ هغے اهل اوګرځوی دریم قول دادے چه فضل قرآن دے اورحمت سنت دے۔

[۵۹] دے آیت کښ رد دے دَ شرك فعلی، مطلب دا دے چه هرکله دلیلونه دَ توحید هم بیان شول اوقرآن پاك هم موجود دے نودَ ځان دَ طرف نه ولے حلال اوحرام جوړوئ﴿رِزْقٍ﴾ فصلونه اوځاروی وغیره اودا ټول په برکاتودَ اسمان سره پیدا کیږی دَ دے وجے نه انزل ذکر شو اوپه دے آیت کښ سخت رد دے په هغه چا باندے چه په حلال حرام جائزنا جائزکښ بغیر دَ وحی نه دَ بل چا تقلید کوی اودے ته شرك فی التشریع او فی الحکم او فی التحلیل والتحریم وئیلے شی۔

[۶۰] دے آیت کښ زورنه ده شرك فعلی کوونکوته چه دوی په اللّٰه تعالیٰ دروغ جوړوی﴿اِنَّ اللّٰهَ لَذُوْفَضْلٍ﴾ مراد دَ دے نه فضل دے په دنیا کښ، نعمتونه ورکول اومهلت ورکول۔ دارنګے فضل قرآن پاك

شُهُوْدًا اِذْ تُفِيْضُوْنَ فِيْهِ ؕ وَمَا يَعْزُبُ عَنْ رَّبِّكَ مِنْ مِّثْقَالِ ذَرَّةٍ فِى الْاَرْضِ وَلَا فِى السَّمَآءِ وَلَاۤ اَصْغَرَ مِنْ ذٰلِكَ وَلَاۤ اَكْبَرَ اِلَّا فِىْ كِتٰبٍ مُّبِيْنٍ ﴿٦١﴾ اَلَاۤ اِنَّ اَوْلِيَآءَ اللّٰهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿٦٢﴾ اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَكَانُوْا يَتَّقُوْنَ ﴿٦٣﴾ لَهُمُ الْبُشْرٰى فِى الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا

حاضرناظر کله چه شروع کوئ تاسو په هغے کښ اونه شی پتیدے دَرب ستانه په قدر دَیوذرے په زمکه کښ اونه په آسمان کښ اونه وړوکے دَ دے نه اونه لوئے مگر په کتاب بنکاره کښ دی (علم دَ اللّٰه تعالیٰ)(٦١) خبر دار یقیناً دوستان دَ اللّٰه تعالیٰ نه به وی هیڅ یره په دوئ باندے اونه به دوئ غمژن کیږی (په ورځ دَقیامت)(٦٢) دا هغه کسان دی چه ایمان ئے راوړیدے او دوئ ځان ساتی دَهرے ګناه نه (٦٣) دَ دوئ دپاره زیرے دے په ژوند دنیوی کښ

دے چه په هغے کښ بیان دَ تحلیل اوتحریم دے ﴿يَوْمَ الْقِيَامَةِ﴾ دا منصوب دے په ظَنُّ سره یعنی دَ قیامت په باره کښ دَ دوی څه ګمان دے یا کلام پټ دے یعنی (ماذا یفعل بهم یوم القیامة)۔

[٦١] دے ایت کښ دلیل عقلی دے چه عالم په هرپټ اوښکاره باندے یواللّٰه تعالیٰ دے ﴿شَأْنٍ﴾ چه مصدروی نوپه معنیٰ دَ قصدکولوسره دے اوکله اسم مصدروی په معنیٰ دَ هرحال اوکار چه هغه مقصدی وی۔ په دے ایت کښ شَانٍ نه مراد هغه حالتونه دَ پیغمبر دی چه دَ یوائے والی سره تعلق لری﴿وَمَا تَتْلُوْا مِنْهُ﴾ مراد دَ دے نه هغه حالت دے چه پیغمبرامت ته قرآن بیانوی مِنهُ ضمیر راجع دے اللّٰه تعالیٰ ته ﴿مِنْ قُرْاٰنٍ﴾ مِن بعضیه دے یا ضمیر راجع دے قرآن ته اودویم قرآن نه مراد ټکړه ده لکه ایت اوسورت۔ ﴿وَلَا تَعْمَلُوْنَ﴾ مراد دَ دے نه ټول اعمال دَ امت دی ﴿وَلَاۤ اَصْغَرَ﴾ دا عطف دے په لفظ دَ مثقال باندے۔ ﴿كِتٰبٍ مُّبِيْنٍ﴾ مراد دَ دے نه لوح محفوظ دے او هغه تعبیردے دَ علم دَ اللّٰه تعالیٰ نه ﴿فِى الْاَرْضِ وَلَا فِى السَّمَآءِ﴾ داسے په سورة سبا (٣) کښ دی (سوال) دلته فی الارض مخکښ راوړے دے اوسورة سبا کښ روستو دے؟ (جواب) دلته مخکښ احوال دَ زمکے والوذکرشول دَ دے وجے نه ارض ئیے مخکښ راوړے دے، وَلَا اَصغَرَ منصوب دے ځکه چه اسم دے دَ لا لنفی الجنس دپاره۔

[٦٢] په دے آیت کښ زیرے دے نیکانوخلقوته اوپه دے سورةکښ دَ اولیاء اللّٰه دَ ذکرکولونکته دامعلومیږی چه مشرکینو هغوی شفعاء ګنړل اودَ هغوی بندګی ئیے کوله نواللّٰه تعالیٰ په دے آیتونوکښ دَ هغے حقیقت حال ذکرکړوچه اولیاء دَاللّٰه تعالیٰ کیدے شی لیکن شفعاء نشی کیدے ﴿لَا خَوْفٌ﴾ مراد دَ دے نه دا دے چه په قبراوحشرکښ به په دوی باندے خوف اوحزن نه وی ﴿اَوْلِيَآءَ اللّٰهِ﴾ ولایت دَ دوی دَ طرف نه محبت کول دَ اللّٰه تعالیٰ سره په طاعت اوعبادت کولوسره اودَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه ولایت هم محبت اوحفاظت اونصرت کول دی۔ اودویمه معنیٰ موافق ده دَ سورة بقره (٢٥٧) سره۔

[٦٣] په دے آیت کښ تعریف دَ اولیائیے کرامو دے په دوو صفتونوسره اول صفت دَ ایمان دے چه مراد دَ هغے نه ایمان کامل دے او دویم صفت دَ تقویٰ دے چه مراد دَ هغے نه دَ شرك اودَ بدعت دَګناهونونه بچ کیدل دی اوخازن ذکرکړیدی چه ولی اللّٰه هغه دے چه عقیده ئیے صحیح وی بناوی په دلیل باندے اواعمال ئیے صالح وی موافق دَ شرعے سره وی اوپه حدیث مرسل کښ راغلی دی چه اولیاء اللّٰه هغه دی

وَ فِي الْاٰخِرَةِ ؕ لَا تَبْدِيْلَ لِكَلِمٰتِ اللّٰهِ ؕ ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿٦٤﴾ وَ لَا يَحْزُنْكَ قَوْلُهُمْ ۘ
اِنَّ الْعِزَّةَ لِلّٰهِ جَمِيْعًا ؕ هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿٦٥﴾ اَلَاۤ اِنَّ لِلّٰهِ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَمَنْ فِي الْاَرْضِ ؕ
وَمَا يَتَّبِعُ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ شُرَكَآءَ ؕ اِنْ يَّتَّبِعُوْنَ اِلَّا الظَّنَّ وَاِنْ هُمْ اِلَّا
يَخْرُصُوْنَ ﴿٦٦﴾ هُوَ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ الَّيْلَ لِتَسْكُنُوْا فِيْهِ وَ النَّهَارَ مُبْصِرًا ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ

اوپه آخرت کښ نیشته بدلیدل کلمو دَ اللّٰه تعالیٰ لره (وعدے دَهغهٔ) داکامیابی لویه ده (٦٤) اونه دے خفه کوی تاله وینا دَ دوئ یقیناً عزت په اختیار دَ اللّٰه تعالیٰ کښ دے ټول هغه هرڅه اوری په هرڅه پوهه دے (٦٥) خبردار یقیناً په اختیار دَ اللّٰه تعالیٰ کښ دی هغه څوك چه په آسمانونو کښ دی اوهغه څوك چه په زمکه کښ دی اونه کوی تابعداری هغه کسان چه بلی سیوا دَاللّٰه تعالیٰ نه شرکاؤ لره تابعداری نه کوی دوی مګر دګمان اونه دی دوئ مګر اټکل کارونه کوی(٦٦) خاص اللّٰه تعالیٰ هغه ذات دے چه جوړه کړے ئے ده ستاسودپاره شپه (تیارے والا) دے دپاره چه آرام اوکړئ په هغے کښ او ورځ رنړاوالا یقیناً په دیکښ دلیلونه دَیووالی دَ اللّٰه تعالیٰ دی

چه دَ هغوی په لیدلوسره اللّٰه تعالیٰ یادیږی۔ دا آیت دلیل دے په دے خبره چه څوك دَ یوحکم شرعی مخالفت کوی په شرك کولو یا بدعت کولوسره نوهغه ولی اللّٰه نشی کیدلے۔

[٦٤] دے آیت کښ زیرے دے اولیاء اللّٰه ته۔ دنیاکښ دَ بشارت ورکولومقصد دا دے چه په حالت دَ ځنکدن کښ ملائك هغه له زیرے دَ جنت ورکوی۔ دارنګ رشتینی خوبونه لیدل۔ اوپه حدیث دَ مسلم کښ وارد دی چه یوشخص نیك عمل کوی اونورخلق دَ دهٔ تعریفونه په هغے وجه سره کوی نودا دنیوی بشارت دَ مؤمن دے نولفظ دَ البشریٰ عام دے که دَ ملائکودَ طرف نه وی اوکه دَ انسانانو۔ اوپه آخرت کښ زیرے دا دے چه کله دَ قبرونونه اوځی نودوی له ملائك زیرے ورکوی دَ جنت۔

[٦٥] دا تسلی ده پیغمبراودَ هغه تابعدارو ته چه که مخالفین خلق ستاسو تکذیب کوی یا افتراء کوی نوهغی ستاسوعزت نه شی کمولے ځکه چه اختیاردَ عزت دَ اللّٰه تعالیٰ سره دے۔ او ربط دَ دے دَ ماقبل سره دا دے چه ولی اللّٰه هغه دے چه منکرین خلق په هغه باندے طعنونه وائی لیکن هغه دَ هغے پرواه نه کوی اوپه دے سره دَ هغه عزت عند اللّٰه نه کمیږی۔

[٦٦] دے آیت کښ زورنه ده مشرکینوته اودا دلیل عقلی دے اوعلت دے دَ ﴿اِنَّ الْعِزَّةَ لِلّٰهِ جَمِيْعًا﴾ دپاره۔ پدے ایت کښ مَنْ راوړے دے چه خاص دے په عقل والوپورے دے ملائك انسانان جنات اوپه (٥٥) کښ لفظ دَ مَا راوړے ووچه دَ غیرعقل والو دپاره دے یا عام دے اوپه دے ایت کښ ﴿مَنْ﴾ دَ دے وجے نه ذکرکړو چه اولیاء اللّٰه پکښ داخل شی چه معلومه شی چه هغوی دَ اللّٰه تعالیٰ مملوك دی دَ هغه شریکان نشی کیدلے ﴿وَمَايَتَّبِعُ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ شُرَكَآءَ﴾ دَ دے جملے دوه تفسیرونه دی اول تفسیردا دے چه شرکاء مفعول دَ یتبع دے او مراد دَ دینه اولیاء اللّٰه دی مطلب دا دے چه دا مشرکان دَ دے اولیاء اللّٰه تابعداری نه کوی په باره دَ دین کښ اوهسے ئیے دَ اللّٰه تعالیٰ سره شریك ګڼری۔ دویم تفسیردادے چه شرکاء مفعول دَ یدعون دے اودَ یتبع دپاره مفعول حذف دے۔ مطلب دا دے چه داکوم خلق چه دَ اللّٰه تعالیٰ نه سیوا

لِّقَوْمٍ يَّسْمَعُوْنَ ﴿٦٧﴾ قَالُوا اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا سُبْحٰنَهٗ ؕ هُوَ الْغَنِيُّ ؕ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ
اِنْ عِنْدَكُمْ مِّنْ سُلْطٰنٍ بِهٰذَا ؕ اَتَقُوْلُوْنَ عَلَى اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿٦٨﴾ قُلْ اِنَّ الَّذِيْنَ يَفْتَرُوْنَ عَلَى
اللّٰهِ الْكَذِبَ لَا يُفْلِحُوْنَ ﴿٦٩﴾ مَتَاعٌ فِي الدُّنْيَا ثُمَّ اِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ ثُمَّ نُذِيْقُهُمُ الْعَذَابَ الشَّدِيْدَ
بِمَا كَانُوْا يَكْفُرُوْنَ ﴿٧٠﴾ وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَاَ نُوْحٍ ۘ اِذْ قَالَ لِقَوْمِهٖ يٰقَوْمِ اِنْ كَانَ كَبُرَ عَلَيْكُمْ مَّقَامِيْ

دپاره دَهغه قوم چه غوږ ګږدی(٦٧) وائی دوئ نیولے دے اللّٰه تعالیٰ نازولے پاك دے اللّٰه تعالیٰ هغه بے حاجته دے خاص هغه لره دی هغه څه چه په آسمانونو کښ دی اوهغه څه چه په زمکه کښ دی نیشته تاسو سره هیڅ دلیل په دے خبره آیا جوړوئ په اللّٰه تعالیٰ هغه خبرے چه نه پوهیږئ په هغے(٦٨) ته اُوایه یقیناً هغه کسان چه جوړوی په اللّٰه تعالیٰ باندے دروغ نه شی بچ کیدے(عذاب دَ اللّٰه تعالیٰ نه) دوئ لره څهٔ لږے مزے دی په دنیا کښ بیا مونږ ته راګرځیدل دَ دوی دی بیابه اوڅکؤو دوئ ته عذاب سخت په سبب دَهغے چه دوئ کفر کوی(٧٠) اوبیان کړه په دوئ باندے خبر دَ نوح(علیه السلام) کله چه اُوئیل هغه قوم خپل ته اے قومه څما که ګران وی په تاسو باندے او دریدل څما

شرکاؤته رامدد شه وائي دوی تابع نه دی دَ دلیل بلکه تابعداری کوی دَ ګمان اوپه دے دواړو توجیهاتوسره لفظ دَ ما نافیه دے اوجائزده چه ما استفهامیه شی په اخری توجیه باندے ﴿اِنْ يَّتَّبِعُوْنَ﴾ (سوال) اِنْ او اِلّادپاره دَ حصردی اودَ یوځیز حصرخوپه دوه طریقے سره صحیح نه وی؟ (جواب) اول حصردَ دوی دَ اتباع اودَ دلیل دے اودویم حصردَ دوی دَ اقوال شرکیودے۔ چه هغه ټول دروغ دی۔ دویم جواب دا دے چه ظن په دوه قسمه دے اول هغه ظن چه مستند دَ هغے دلیل شرعی دے اودویم هغه دے چه دلیل ئے هم نیشته نوپه دویمه جمله کښ اشاره شوه چه دَ دوی ظن دویم قسم دے۔

[٦٧] دا دلیل عقلی دے دپاره دَ توحید اوپه دے آیت کښ یویولفظ دَ اختصاردپاره غورځولے دے۔ تفصیل ئے دا دے (جعل لکم الیل مظلمًا اودَ مبصرًا) نه روستو(لتبتغوا مِن فضله) او دارنګ په سورة قصص(٧٣) کښ دی۔

[٦٨] دے آیت کښ زورنه ده هغه چا ته چه اللّٰه تعالیٰ ته نسبت کوی دَ ولد۔ اوپه هغے کښ رد دے په پنځوطریقوسره اودا جواب دے دَ وهم دَ مشرکانوچه هغوی وئیل چه دا معبودان زمونږځکه شفعاء دی چه دوی دَ اللّٰه تعالیٰ محبوب مطلق (نازولی) دی پشان ئے دَ اولاد نودَ دوی شفاعت اللّٰه تعالیٰ ضرور قبلوی نوپه دے عقیده باندے ئے رد اوکړو۔اولفظ اتخذ صریح دلیل دے چه دلته مراد حقیقی ولد نه دے بلکه مراد دَ دے نه حکمی ولد دے لکه چه دَ پلار اثار اوصفات په اولاد کښ وی نومشرکان وائي چه داسے دَ اللّٰه تعالیٰ صفتونه دَ الوهیت په اولیاء اللّٰه کښ شته دے۔

[٦٩،٧٠] دے دواړوآیتونوکښ یره دَ عذاب اخروی ده هغه چاله چه اللّٰه تعالیٰ ته نسبت دَ ولدکوی۔ ﴿الْكَذِبَ﴾ مراد دَ دے نه نسبت دَ ولد اودَ شریك دے اللّٰه تعالیٰ ته ﴿مَتَاعٌ﴾ دا جواب دَ سوال دے چه هرکله دوی فلاح والا نه دی نودوی له په دُنیا کښ سامانونه اوعزتونه او لوئیے عمرونه ولے ورکړے شویدی؟ حاصل جواب دا دے چه دا دَ دُنیا برخے دی اللّٰه تعالیٰ کافرانوله هم ورکوی اودامهلت دے اولفظ

وَتَذْكِيْرِيْ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ فَعَلَى اللّٰهِ تَوَكَّلْتُ فَاَجْمِعُوْٓا اَمْرَكُمْ وَشُرَكَآءَكُمْ ثُمَّ لَا يَكُنْ اَمْرُكُمْ عَلَيْكُمْ
غُمَّةً ثُمَّ اقْضُوْٓا اِلَيَّ وَلَا تُنْظِرُوْنِ ﴿۷۱﴾ فَاِنْ تَوَلَّيْتُمْ فَمَا سَاَلْتُكُمْ مِّنْ اَجْرٍ ؕ اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلَى اللّٰهِ ۙ
وَاُمِرْتُ اَنْ اَكُوْنَ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ ﴿۷۲﴾ فَكَذَّبُوْهُ فَنَجَّيْنٰهُ وَمَنْ مَّعَهٗ فِي الْفُلْكِ وَجَعَلْنٰهُمْ خَلٰٓئِفَ

او بیانول ځما آیتونو دَ اللّٰه تعالیٰ لره پس په اللّٰه تعالیٰ باندے ځان سپارلے دے ما پس کلك کړئ تدبیر خپل او رااوبلئ شریکان خپل بیادِ نه وی تدبیر ستاسو په تاسو باندے پټ بیا تکلیف راکړئ ماته مخامخ او مهلت مه راکوی ماته (۷۱) پس که تاسو مخ واړوئ پس مانه ده غوښتلے ستاسونه څه مزدوری نه ده مزدوری ځما مګر دَاللّٰه تعالیٰ سره ده اوحکم کړے شوے دے ماته چه یم دے ځه دَحکم منونکو نه (۷۲) پس دوی هغه ته دروغژن اُوئیل پس بچ کړو مونږه دے اوهغه څوك چه دَ دهٔ ملګری وو په کشتئ کښ او اوکړځول مونږ دوئ روستو اوسیدونکی په زمکه کښ

دَ لَهُمْ دلته پټ مراد دے۔

[۷۱] دَ دے ایت نه تراخردَ سورة پورے دریمه حصه ده په دے کښ واقعه دَ نوح علیه السلام اودَ موسیٰ علیه السلام ده، نمونے دی دپاره دَ عذاب دُنیوی په منکرینو باندے اودرے واړو واقعوتخصیص په دوه وجوسره دے۔ یو وجه دا ده چه واقعه دَ نوح علیه السلام اوله ده او واقعه دَ اهلاك دَ فرعونیانو اخری ده نو اول دَ اخر ذکر شو اومینځ واقعات پکښ اشارةً داخل شول۔ دویمه وجه دا ده چه دَ دے سورة په (۲۲) کښ دَ مشرکانوحال دَ ویرے دَ غرقیدلوذکر شویوؤ نواشاره شوه چه دا ټول په مشیت او ارادے دَ اللّٰه تعالیٰ سره دی که اوغواړی نوځوك به غرق کړی لکه قوم نوح علیه السلام اوفرعونیان اوکه اوغواړی نوځوك به بچ کړی لکه یونس علیه السلام ئے دَ غرقیدونه بچ اوساتلواودَ هغه قوم ئے دَ توبے په وجے سره دَ عذاب نه بچ اوساتلو اوپدے حصه کښ ذکردَ قوم دَ یونس علیه السلام دے دپاره دَ ترغیب توبے ته مخکښ دَ عذاب راتلونه اوپه اخرکښ بیان دَ پیغمبردے دپاره دَ رد دَ اقساموَدَ شرك اودپاره دَ ترغیب قرآن ته۔ پدے ایت (۷۱) کښ واقعه دَ نوح علیه السلام ده اودا واقعه دپاره دَ تخویف ذکرده۔ اودپاره دَ تسلّیٔ هم دَ دے وجے نه په دے کښ مسئله دَ توحید ئے نه ده ذکرکړے۔ ﴿مَقَامِيْ﴾ په دے کښ اشاره ده چه هغه به دعوت په اولاړے سره کوؤ ﴿فَعَلَى اللّٰهِ﴾ دَ دے نه مخکښ لفظ پټ دے یعنی (فعزمتم علی قَتلِی وَاِیذائِی) قصدکوئے تاسوځما دَ قتل اودَ ضرر رسوَلواودَ هغه شجاعت ذکرکړے شویدے ﴿ثُمَّ لَا يَكُنْ اَمْرُكُمْ﴾ مطلب دَ دے دادے چه تاسوخپل کارځماپه مقابله کښ بیکاره اوکړئ ځکه څوك چه یوکارپټ کوی نوهغه پوره مقصد ته نشی رسیدلے۔

[۷۲] پدے ایت کښ ذکرشویدے نیشتوالی دَ طمع دَ نوح علیه السلام ځکه چه طمع دارسړے پوره حق نشی بیانولے ﴿فَاِنْ تَوَلَّيْتُمْ﴾ دَ دے جزاء پټه ده یعنی څه ملامته نه یم اودا روستوجمله علت دَ جزاء دے۔ اوهرکله چه دَ عوت فرض عین دے په انبیاء علیهم السلام باندے نودَ هغوی دپاره پدے باندے اجرت اخستل منع دی۔ اودارنګ په چا باندے چه یوعمل فرض عین وی نوپه هغے باندے اجرت اخستل حرام دی۔ ﴿الْمُسْلِمِيْنَ﴾ تابعدارَدَ حکم دَ اللّٰه تعالیٰ دَ اخلاص سره بغیرَدَ اجرت نه که خلق ئے قبلوی او که نه یا المُسلِمِینَ نه مراد جماعت دَ انبیاء علیهم السّلام دے یعنی څه په دے بیان او اجرت نه اخستلوکښ دَ انبیاء

وَاَغْرَقْنَا الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا ۚ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُنْذَرِيْنَ ﴿٧٣﴾ ثُمَّ بَعَثْنَا مِنْۢ بَعْدِهٖ رُسُلًا
اِلٰى قَوْمِهِمْ فَجَآءُوْهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ فَمَا كَانُوْا لِيُؤْمِنُوْا بِمَا كَذَّبُوْا بِهٖ مِنْ قَبْلُ ؕ كَذٰلِكَ نَطْبَعُ عَلٰى قُلُوْبِ
الْمُعْتَدِيْنَ ﴿٧٤﴾ ثُمَّ بَعَثْنَا مِنْۢ بَعْدِهِمْ مُّوْسٰى وَ هٰرُوْنَ اِلٰى فِرْعَوْنَ وَمَلَا۟ئِهٖ بِاٰيٰتِنَا فَاسْتَكْبَرُوْا
وَكَانُوْا قَوْمًا مُّجْرِمِيْنَ ﴿٧٥﴾ فَلَمَّا جَآءَهُمُ الْحَقُّ مِنْ عِنْدِنَا قَالُوْٓا اِنَّ هٰذَا لَسِحْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿٧٦﴾ قَالَ

او غرق کړهٔ مونږه هغه کسان چه دروغژن ئے ګڼړل آیتونه ځمونږه پس اوګوره چه څرنګے شو انجام دَ
یره ورکړے شؤو (۷۳) بیا اولیږل مونږ روستو دَهغه نه ډیر رسولان قومونو دَهغوی ته پس راوړو هغوی
دوی ته دلیلونه پس نه وو هغوی چه ایمان ئے راوړے وے په سبب دَهغے چه دروغژن ګړیوو حق لره
مخکښ دَ دے نه دَ دے وجے نه مهر وهو مونږه په زړونو دَ ظالمانو باندے (۷٤) بیا اولیږل مونږ روستو
دَهغے نه موسیٰ(علیه السلام) او هارون(علیه السلام) فرعون ته اوغټانو دَقوم دَهغه ته په معجزاتو ځمونږه پس لوئی
اوکړه هغوئ او وو دوی قوم مجرمان (۷۵) پس هر کله چه راغے دوئ ته حق دَ طرف ځمونږنه اُوئیل
دوئ یقیناً داخامخا جادو ښکاره دے(۷٦)اُوئیل

علیهم السلام په مسلك باندے روان یم۔

[۷۳] پدے ایت کښ ذکرَ دَ ملګرودَ نوح(علیه السلام) دے اوذکردعذاب دَ منکرینو دے ﴿فَكَذَّبُوْهُ﴾ دا
سبب دَ عذاب دے ﴿خَلٰٓئِفَ﴾ یعنی دَ نوح(علیه السلام) اولاد په زمکه کښ اباد شول لکه په سورة صافات (۷۷)
کښ۔ ﴿الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا﴾ دا دلیل دے چه صرف مکذبین غرق شول نوپه ټوله زمکه باندے طوفان نه دے راغلے۔

[۷٤] په دے ایت کښ دلیل نقلی اجمالی دے دَ پیغمبرانونه اودرے درجات دَ منکرینوذکردی اول
تکذیب، دویم عدم ایمان دریم مهریه زړونو﴿بِمَا كَذَّبُوْا﴾ پدے کښ دوه توجیه دی اول داچه دَ ضمیرَ
لِیؤمنوا اوکذبوایوه مرجع ده اوقبل نه مراد اول حالت دے یعنی په اول حال ئے تکذیب اوکړو نوبیا دَ ایمان نه
محرومه شول۔ دویمه توجیه لیؤمنوضمیر روستنوقومونوته راجع دے اوضمیرَدَکذبوا قوم دَ نوح(علیه السلام) ته راجع
دے پدیکښ دوه احتمالونه دی اول دا چه باء سببیه ده یعنی په سبب دَ تکذیب دَ مخکنو روستنی هم (دَ
هغوی دَ تقلید دَ وجے نه) دَ ایمان نه محروم شول دویم احتمال دا دے چه با صله دَ لِیؤمنوا ده نومعنیٰ دا چه
روستنوایمان رانه وړوپه هغه څیزچه مخکنودَ هغے تکذیب کړے وؤ﴿كَذٰلِكَ﴾ کاف په معنیٰ دَلام علتیه دے۔

[۷۵] دا دلیل نقلی دے دَ موسیٰ(علیه السلام) نه اومقصود پدیکښ یره ورکول دی منکرینوته دَ عذاب دَ دُنیانه
اوبهادری دَ موسیٰ(علیه السلام) اودَ ملګرودَ هغه ﴿بِاٰيٰتِنَا﴾ مراد دَ دے نه هغه نهه معجزات دی چه سورة اعراف
کښ تیرشویدی ﴿فَاسْتَكْبَرُوْا﴾ مراد دا دے چه دَ توحید اورسالت منلونه انکارَ دے وجے نه اوکړو چه
دوی ځان لوئے ګڼړلو﴿مُّجْرِمِيْنَ﴾ جرمونه اوګناهونه ئے ښکاره کول۔ او روستو درے ایاتونوکښ دَ
دوی استکبار اوجرم ذکرکړے دے۔

[۷٦] په دے آیت کښ بیان دَ استکبارَ هغی دے اودَ الحق، نه مراد معجزات دَ موسیٰ(علیه السلام) دی۔

مُوْسٰٓى اَتَقُوْلُوْنَ لِلْحَقِّ لَمَّا جَآءَكُمْ ؕ اَسِحْرٌ هٰذَا ؕ وَلَا يُفْلِحُ السّٰحِرُوْنَ ﴿٧٧﴾ قَالُوْٓا اَجِئْتَنَا لِتَلْفِتَنَا عَمَّا وَجَدْنَا
عَلَيْهِ اٰبَآءَنَا وَتَكُوْنَ لَكُمَا الْكِبْرِيَآءُ فِى الْاَرْضِ ؕ وَمَا نَحْنُ لَكُمَا بِمُؤْمِنِيْنَ ﴿٧٨﴾ وَقَالَ فِرْعَوْنُ ائْتُوْنِىْ
بِكُلِّ سٰحِرٍ عَلِيْمٍ ﴿٧٩﴾ فَلَمَّا جَآءَ السَّحَرَةُ قَالَ لَهُمْ مُّوْسٰٓى اَلْقُوْا مَآ اَنْتُمْ مُّلْقُوْنَ ﴿٨٠﴾ فَلَمَّآ اَلْقَوْا قَالَ
مُوْسٰى مَا جِئْتُمْ بِهِ ۙ السِّحْرُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ سَيُبْطِلُهٗ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُصْلِحُ عَمَلَ الْمُفْسِدِيْنَ ﴿٨١﴾ وَيُحِقُّ

موسیٰ(علیه السلام) آیاوائے تاسو په باره دَحق کښ هرکله چه راغے تاسوته آیاجادو دے دا اونه شی کامیاب کیدے جادوګر (۷۷) اُوئیل دوی آیاته راغلے ئے مونږ ته دے دپاره چه ته واړوے مونږ لره دَ هغه طریقے نه چه موندلی دی مونږ په هغے مشران خپل اوشی دے تاسو دواړو لره بادشاهی په دے زمکه کښ اونه یو مونږ تاسو لره منونکی(۷۸) او اوے فرعون راولئ ماته هرجادرګر ماهر(۷۹) پس هرکله چه راغلهٔ جادوګر اُوئیل دوئ ته موسیٰ(علیه السلام) (پس دَوینا دَهغئ نه) اوغورځوئ هغه شے چه تاسو غور ځونکی یئ (۸۰) پس هرکله چه دوئ اوغورځول اُوئیل موسیٰ(علیه السلام) هغه شے چه راوړے دے تاسو هغه خوجادو دے یقیناً اللّٰه تعالیٰ زر ختم به کړی اثر دَ دے یقیناً اللّٰه تعالیٰ نه کامیابوی عمل دَمفسدانو (۸۱) اوبنکاره کوی

[۷۷] په دے کښ رد دے دَ طرف دَ موسیٰ(علیه السلام) نه په منکرنیوباندے ﴿لَمَّا جَآءَكُمْ﴾ دَ دے نه روستو هذا سحرٌ، حذف دے مقوله تقولون ده۔ اوآسِحرٌ کښ همزه دَ استفهام انکاری اوتوبیخ دپاره ده۔

[۷۸] په دے آیت کښ دویم استکبار دَ هغی ذکردے اوپه موسیٰ اوهارون علیهما السلام ئے دوه الزامه اوکړل اول داچه تاسوځمونږنه بادشاهی دَ مصراخلئ۔ په اول الزام کښ خفګان دَعاموخلقو دے اوپه دویم کښ خفګان دَ اقتدارواودے۔

[۷۹] په دے کښ بیان دَ دریم استکبارد فرعون دے۔ په مقابلے کولوسره په واسطه دَ ساحرانواوپه دے طریقے سره بنکاره کوی چه موسیٰ(علیه السلام) ساحردے۔

[۸۰] دے ایت کښ تقدیردا دے چه قَالَ لَهُمْ مُّوسٰى بَعد قَوْلِهِمْ، یعنی اول قول هغی اوکړوموسیٰ(علیه السلام)نه نوموسیٰ(علیه السلام) دَ هغے په جواب کښ دا اُوئیل اوداسے په سورة اعراف (۱۱۵) اوسورة طٰهٰ (٦٥) کښ ذکر دی۔

[۸۱] په دے ایت کښ ردکول دَ موسیٰ(علیه السلام) دی په ساحرانوباندے اواشاره ده دے ته چه سحرکول فساد دے ﴿مَا جِئْتُمْ بِهِ السِّحْرُ﴾ دا جمله دلالت کوی په حصرقلب باندے یعنی ځما معجزه سحرنه دے ستاسو دا عمل سحردے۔

فائده: تفسیرقرطبی کښ دَ عبد اللّٰه بن عباس رضی اللّٰه عنهما نه نقل دی چه څوك دَ شپے په بستره باندے سملی اودا اولولی ماجِئتُم بِهِ السِّحرُ، ترآخره پورے نوهغه ته سحرځه ضررنه ورکوی۔ اودا رنګ دا آیت چه اولیکلے شی په بدن دَ هغه چاچه جادوپرے کړے شوے وی نواللّٰه تعالیٰ دَ هغه سحر دفع کوی۔ لیکن پدے طریقے لیکلو دپاره دلیل نیشته اونور نقصانات ترینه پیداکیږی هان لوستل دَ قرآن دَ شفا دپاره ثابت دی۔

اللّٰهُ الْحَقَّ بِكَلِمٰتِهٖ وَلَوْ كَرِهَ الْمُجْرِمُوْنَ ﴿٨٢﴾ فَمَآ اٰمَنَ لِمُوْسٰٓى اِلَّا ذُرِّيَّةٌ مِّنْ قَوْمِهٖ عَلٰى خَوْفٍ مِّنْ
فِرْعَوْنَ وَمَلَا۟ئِهِمْ اَنْ يَّفْتِنَهُمْ ؕ وَاِنَّ فِرْعَوْنَ لَعَالٍ فِى الْاَرْضِ ۚ وَاِنَّهٗ لَمِنَ الْمُسْرِفِيْنَ ﴿٨٣﴾ وَقَالَ
مُوْسٰى يٰقَوْمِ اِنْ كُنْتُمْ اٰمَنْتُمْ بِاللّٰهِ فَعَلَيْهِ تَوَكَّلُوْٓا اِنْ كُنْتُمْ مُّسْلِمِيْنَ ﴿٨٤﴾ فَقَالُوْا عَلَى اللّٰهِ تَوَكَّلْنَا ۚ
رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً لِّلْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٨٥﴾ وَنَجِّنَا بِرَحْمَتِكَ مِنَ الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿٨٦﴾ وَاَوْحَيْنَآ

اللّٰه تعالیٰ حق لره په کلمو خپلو سره اګر چه بدګنړی مجرمان(۸۲) پس ایمان ئے راونړلو په موسیٰ(علیه السلام) باندے مګر ځو ځوانانو ډګوم ډهغه نه سره ډیرے ډفرعون نه او ډغټانو ډقوم ډهغوی نه چه وابړوی هغوی لره (ډ دین نه) اویقیناً فرعون خامخا اوچت وو په زمکه ډمصرکښ او یقیناً دے خامخا ډمشرکانونه وو(۸۳) او اُوئیل موسیٰ(علیه السلام) اے قومه ځما که تاسو ایمان راوړے وی په اللّٰه تعالیٰ پس خاص په اللّٰه تعالیٰ ځان اوسپارئ که تاسو حکم منونکی ئې(۸٤) پس اوئیل دوئ خاص په اللّٰه تعالیٰ مونږ ځان سپارلے دے اے ربه ځمونږه مونږ مه ګرځوے ازمیښت (یالاندے) ډقوم ظالمانو دپاره (۸۵) اوبچ کړے مونږه په وسیله ډ رحمت ستا ډقوم کافرانونه (۸٦) اووحی اوکړه مونږ

[۸۲] مراد ډ کلماتِه نه دلیلونه ډ اللّٰه تعالیٰ دی یا وعدے ډ امداد ډ هغه دی ﴿وَيُحِقُّ اللّٰهُ﴾ دا عطف دے په سیبطله باندے۔

[۸۳] په دے آیت کښ بیان ډ شجاعت ډملګرودَ موسیٰ علیه السلام دے﴿اِلَّا ذُرِّيَّةٌ﴾ لږکسان مراد دی چه کمزوری وی که نارینه وی اوکه زنانه وی اوکه بچی وی اوکه بوډاګان وی په دے ایت کښ دوه توجیه دی اول دا چه﴿مِنْ قَوْمِهٖ﴾ ضمیرموسیٰ علیه السلام ته راجع دے۔ نومراد ډ دے نه هغه بنی اسرائیل دی چه ایمان ئے راوړے ووٴ په موسیٰ علیه السلام باندے دویمه توجیه دا ده چه ضمیر راجع دے فرعون ته مراد ډ دے نه بعضے هغه کسان ووٴ ډ قوم ډ فرعون نه چه ایمان ئے راوړے ووٴلکه رجل مؤمن ډ ال فرعون په سورة خم مؤمن کښ ذکردے۔ اومراد ډ ایت دا دے چه دے کسانوایمان په داسے حالت کښ راوړے ووٴچه ډ فرعون اودَ هغه ډ قوم نه دایره وه چه دوی ته به سخت تکلیفونه ورکړی لیکن دوی ډ هغے پرواه اونکړه ﴿لَعَالٍ فِي الْأَرْضِ﴾ مراد ډ دے نه بادشاهی اواقتدارډ هغه دے ﴿لَمِنَ الْمُسْرِفِينَ﴾ نه مراد شرك اوکفرکول او ظلم کول ډ دهٔ دی۔

[۸٤] هرکله چه هغوی ایمان راوړونودَ فرعونیانودَ طرف نه په هغوی باندے ډیرظلمونه شروع شول نودا تسلی ورکول ډ موسیٰ علیه السلام دی مؤمنانوته په وخت ډ مصیبتونوکښ۔ اودا آیت دلیل دے په دے خبره چه کمال ډ ایمان اواسلام په سپارلودَ کار خپل سره دے اللّٰه تعالیٰ ته، په دے آیت کښ ایمان اواسلام دواړه جمع کړل نوایمان صفت ډ زړه دے اواسلام ظاهری اعمال اوتابعداری ده ډ حکمونودَ اللّٰه تعالیٰ اودَ روستوشرط دپاره جزاپته ده (فاصبروا واتبعوا) او ایت صریح دلیل دے چه توکل په اللّٰه تعالیٰ باندے مقتضی ډ ایمان اواسلام ده۔

[۸۵] ﴿لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً﴾ مراد ډ فتنے نه په عذاب کښ مبتلا کیدل دی په لاسونو ډ ظالمانوسره یا مراد ډ فتنے نه مصیبتونه دی ډ اللّٰه تعالیٰ ډ طرف نه چه هغه امتحان دے دپاره ډ ظالمانوځکه هرکله چه په حق پرستومصائب ډیر راشی نوظالمان وائی که دوی په حق باندے وے نوپه دوی به دا عذابونه ولے راتلل۔ اودا

اِلٰى مُوْسٰى وَ اَخِيْهِ اَنْ تَبَوَّاٰ لِقَوْمِكُمَا بِمِصْرَ بُيُوْتًا وَّاجْعَلُوْا بُيُوْتَكُمْ قِبْلَةً وَّاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ ؕ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٨٧﴾ وَقَالَ مُوْسٰى رَبَّنَاۤ اِنَّكَ اٰتَيْتَ فِرْعَوْنَ وَمَلَاَهٗ زِيْنَةً وَّاَمْوَالًا فِى الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۙ رَبَّنَا لِيُضِلُّوْا عَنْ سَبِيْلِكَ ۚ رَبَّنَا اطْمِسْ عَلٰۤى اَمْوَالِهِمْ وَاشْدُدْ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُوْا حَتّٰى يَرَوُا الْعَذَابَ الْاَلِيْمَ ﴿٨٨﴾ قَالَ قَدْ اُجِيْبَتْ دَّعْوَتُكُمَا فَاسْتَقِيْمَا وَلَا

موسیٰ(علیه السلام) ته او ورور دَهغه ته چه تیارکړئ دپاره دَقوم خپل په مصر کښ کورونه اوجوړ کړئ په کورونو خپلو کښ ځائے دَمانځه اوپا بندی کوئ دَمانځه او زیرے ورکړه مؤمنانوته (دَکامیابئ)(۸۷)او اُوئیل موسیٰ(علیه السلام) اے ربه ځمونږ یقیناً ورکړی دی تا فرعون ته اوغټانو دَقوم دَهغه ته ډول (خائست) او مالونه په ژوند دُنیوی کښ اے ربه ځمونږ (عاقبت دا دے)چه واړوی خلق ستا دَ لارے نه اے ربه ځمونږ بے کاره کړے مالونه دَ دوی اوسختی راولے په زړونو دَ دوئ پس دوئ ایمان نه راوړی تردے پورے چه اُوینی عذاب درد ناك لره (۸۸) اوفرمائیل اللّٰه تعالیٰ یقیناً قبوله شوه دُعا ستاسو دَ دواړو پس کلك شئ په خپله طریقه اومه

امتحان دے ﴿رَبَّنَا لَاتَجْعَلْنَا﴾ اشاره ده چه توکل سره دعاهم یوځائے کول پکار دی۔

[۸۶] دا آیت دلیل دے په دے خبره چه غوره وسیله اللّٰه تعالیٰ ته په دُعاکښ رحمت دَ هغه دے۔

[۸۷] پدے آیت کښ بیان دَ امورمصلحودے په وخت دَ تکالیفواومصیبتونو کښ مطلب ئے دا دے چه کله فرعون دوی تنګ کړل اوپه عبادتخانوکښ ئے عبادت کولوته نه پریخودل نودوی ته اُوئیلے شول چه په کورونوکښ ځان له مساجد جوړکړئے اوپه هغے کښ عبادت کوئ ﴿اَنْ تَبَوَّاٰ لِقَوْمِكُمَا﴾ مراد دَ دے نه دا دے چه خپلے آبادئ دَ فرعونیانونه جدا کړئ دپاره دَ دے چه کم وخت په هغی عذاب راځی چه تاسو ترے بچ ئے نومراد دَ بیوت نه کورونه دَ اوسیدلودی یا مراد دَ دے نه عبادت خانے دی ﴿قِبْلَةً﴾ مراد دَ قبلے نه کعبه ده ځکه چه کعبه قبله دَ ټولوپیغمبرانووه یعنی عبادت خانے کعبے طرف ته اوګرځوئے یا قبله په معنیٰ دَ مساجد سره ده یعنی خپلو کورونو کښ مونځونه کوئے۔

فائده: اول خطاب موسیٰ اوهارون(علیهما السلام) ته دے تثنیه ده ځکه چه عبادت ګاه مقررکول اوانتظام کول دَ انبیاء علیهم السلام کاردے دویم اودریم خطابونه جمع ده ځکه چه عبادت کول دَ ټول امت فریضه ده۔ ځلورم خطاب مفرد دے صرف موسیٰ(علیه السلام) ته خطاب دے اشاره ده عظمت دَ بشارت اومبشرِبه ته۔

[۸۸] په دے آیت کښ دعا دَ شر، یعنی خیرے کول دَ موسیٰ(علیه السلام) دی په فرعونیانوباندے اوهرکله چه دُعا دَ شر دپاره اول ذکر دَجرمونوضروری دے چه سبب دے دپاره دَ خیروکولونوذکرئے کړو ﴿اٰتَيْتَ فِرْعَوْنَ﴾ یعنی محبت دَ دُنیا سبب دَ جرمونوکولو دے ﴿لِيُضِلُّوْا﴾ دا لام دَ عاقبت دے یعنی دَ دے مالدارئ انجام دا دے چه دوی په خپله هم ګمراه شول اونورخلق هم ګمراه کوی ﴿اطْمِسْ عَلٰۤى اَمْوَالِهِمْ﴾ مراد دا دے چه دَ دوی مالونه که روپئ اواشرفئ دی اوکه فصلونه وغیره دی بے کاره اوګرځوه۔ نوهغه ځیزونه ټول ګټی شول ﴿وَاشْدُدْ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ﴾ مراد دَ دے نه کلکول دَ دوی دی به کفرباندے په مهروهلوسره دَ هغی په زړونو ﴿فَلَايُؤْمِنُوْا﴾ دا عطف دے په لِيُضِلُّوا، باندے په نیزدَ عام علمائے نحوباندے اوپه نیزدَ اخفش

تَتَّبِعٰٓنِّ سَبِيْلَ الَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٨٩﴾ وَجٰوَزْنَا بِبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ الْبَحْرَ فَاَتْبَعَهُمْ فِرْعَوْنُ وَجُنُوْدُهٗ
بَغْيًا وَّعَدْوًا ؕ حَتّٰٓى اِذَآ اَدْرَكَهُ الْغَرَقُ ۙ قَالَ اٰمَنْتُ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّا الَّذِيْٓ اٰمَنَتْ بِهٖ
بَنُوْٓا اِسْرَآءِيْلَ وَ اَنَا مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ ﴿٩٠﴾ آٰلْـٰٔنَ وَقَدْ عَصَيْتَ قَبْلُ وَكُنْتَ مِنَ الْمُفْسِدِيْنَ ﴿٩١﴾
فَالْيَوْمَ نُنَجِّيْكَ بِبَدَنِكَ لِتَكُوْنَ لِمَنْ خَلْفَكَ اٰيَةً ؕ وَ اِنَّ كَثِيْرًا مِّنَ النَّاسِ عَنْ اٰيٰتِنَا

زئ په لارے دَ هغے کسانو چه نه پوهیږی(۸۹) اوپورے ویستل مونږ بنی اسرائیل دَ دریاب نه پس ورپسے لاړل فرعون او لښکر ے دَهغه دَوجے دَضد او دَ دشمنئ نه ترهغے پورے چه کله راګیر کړو دهٔ لره غرقیدلو نو اُوئیل دهٔ چه ایمان ئے راوړو په دے خبره چه نیشته لائق دَبندګئ سیوا دَهغه ذات نه چه ایمان راوړیدے په هغه باندے بنی اسرائیلو اوئے یم دَ توحید والونه(۹۰) (اووئیلے شودهٔ ته) آیا اوس ایمان راوړے اوحال دا چه نافرمان وے مخکښ دَ دے نه او وے ته دَ فساد کوونکونه (۹۱) پس نن پورته کوم بدن ستا دے دپاره چه شے ته دَروستو دپاره نخه دَعبرت اویقیناً ډیر دَخلقونه ځمونږ دَآیتونونه

اودَ فراء دا جواب دَ امردے چه اطمس، او واشدد، دے اودا دعا دَ موسیٰ علیه السلام په هغه وخت کښ وه چه ناامیده شودَ هغوی دَ ایمان راوړلونه پشان دَ نوح علیه السلام۔

[۸۹] په دے آیت کښ قبولیت دَ دعا دَ موسیٰ علیه السلام اودَ هارون علیه السلام دے اکثرمفسرینولیکلی دی چه موسیٰ علیه السلام دُعا غوښتله اوهارون علیه السلام په هغے آمین اُوئیل، اوامین هم دُعا ده نوځکه په دے آیت کښ دَ دُعا نسبت ئے دواړو ته اوکړو اوابن کثیر وئیلی دی چه په دے سره حجت نیولے هغه چاچه امام فاتحه اولولی او مقتدی آمین اُوائي نو دا سے شوه لکه چه هغه هم قرأت وئیلے وی۔ لیکن دا موقوف روایت دے اوبقاعی لیکلی دی چه هارون علیه السلام دغه وخت غائب وؤ لیکن هم رضا وؤپه دے دعا باندے نو هغه ته ځکهٔ نسبت اوکړے شو ﴿فَاسْتَقِيْمَا﴾ مراد دا دے چه ترقبلیدلودَ دُعا پورے په خپل دین باندے کلك اوسئ اودَ عوت جاری ساتئے۔ اودارنګ مراد دَ استقامت دا دے چه په قبلیدلودَ دُعاکښ تلوارمکوئ بعضو روایاتو کښ راغلی دی چه دَ اجابت دَ دُعا نه څلویښت کاله بعد فرعون هلاك شو ﴿وَلَا تَتَّبِعٰٓنِّ سَبِيْلَ﴾ مراد دا دے چه دَ جاهلانوپشان تلوار اوبے صبری مکوئے ځکه تلوارکوؤنکے په دُعا کښ حکمت دَ مهلت ورکولوباندے نه پوهیږی۔

[۹۰] په دے آیت کښ نجات دَ بنی اسرائیلو اوغرقیدل دَ فرعونیانوذکرشوی دی ﴿بَغْيًا وَّعَدْوًا﴾ یو فرق دا دے چه بغی په قول کښ ده اوعدوان په عمل کښ دویم دا چه بغی په عقیده کښ اوعدوان په عمل کښ دریم دا چه بغی په حقوق الله کښ اوعدوان په حقوق العبادکښ ﴿اَدْرَكَهُ﴾ ادراك په معنیٰ دَ احاطے دے دَ هرطرف نه ئے راګیرکړونومعلومه شوه چه فرعون دَ غرق نه بچ شوے ندے اګرچه دهٔ یومقصد په درے عبارتونوسره وئیلے دے اول آمَنتُ، دویم لَاإِلٰهَ إِلَّا الَّذِی، دریم وَأَنَامِنَ الْمُسلِمِینَ، اودلته ایمان اواسلام یوځیزدے۔ اودا آیت دلیل دے پدے خبره چه په حالت دَ ځنکدن کښ چه کم وخت یقین راشی په مړکیدلونوایمان نه قبلیږی لکه په سورة انعام(۱۵۸) اوپه دے سورة (۵۱) کښ اوپه سورة مؤمنون (۸۵) کښ دی۔

[۹۱] دا قول دَ الله تعالیٰ دے په واسطه دَ جبرئیل علیه السلام یا دَ بل مَلك سره لیکن په حدیث دَ ترمذی (حدیث حسن) کښ راغلی دی چه فرعون ته په دغه حالت کښ چه جبریل دَ هغه په خوله کښ خټه

لَغٰفِلُوْنَ ﴿٩٢﴾ وَلَقَدْ بَوَّاْنَا بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ مُبَوَّاَ صِدْقٍ وَّرَزَقْنٰهُمْ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ ۚ فَمَا اخْتَلَفُوْا
حَتّٰى جَآءَهُمُ الْعِلْمُ ۭ اِنَّ رَبَّكَ يَقْضِيْ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فِيْمَا كَانُوْا فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ﴿٩٣﴾ فَاِنْ
كُنْتَ فِيْ شَكٍّ مِّمَّآ اَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ فَسْـَٔلِ الَّذِيْنَ يَقْرَءُوْنَ الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكَ ۚ لَقَدْ جَآءَكَ الْحَقُّ
مِنْ رَّبِّكَ فَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الْمُمْتَرِيْنَ ﴿٩٤﴾ وَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ فَتَكُوْنَ

بے پرواه دی (۹۲) اویقیناً ځائے ورکړے وو مونږ بنی اسرائیلو ته ځائے مزیدار او رزق ورکړے وو مونږ دوئ ته دَپاکو ځیزونونه پس اختلاف اونکړو دوئ(په مسئله دَتوحید کښ) ترهغے چه راغے دوئ ته علم یقیناً ستاړب به عملی فیصله اوکړی په مینځ دَ دوی کښ په ورځ دَ قیامت ،په هغه ځیز کښ چه دوئ په هغے کښ اختلاف کوی (۹۳) پس که ئے ته په شك کښ دَهغه ځیزنه چه رالیږلے مونږ تاته پس تپوس اوکړه دَهغے کسانونه چه لوستوئے کتاب ستانه مخکښ (حق پرست علماء) یقیناً راغلے دے تاته حق دَطرف دَرب ستانه پس مه کیږه ته دَ شك کوونکونه (۹٤) اومه کیږه دَهغے کسانونه چه دروغژن ګنړی آیتونه دَ اللّٰه تعالیٰ پس شے به ته

اچوله نومعلومه شوه چه جبریل دغه کلمات وئیلی دی اوپدے حدیث باندے امام رازی ډیراوګډ اعتراض کړے دے اوخازن دَ هغے تفصیلی جواب ذکرکړیدے۔

[۹۲] روایاتوکښ راغلی دی چه دَ بنی اسرائیلویقین نه کیدلوچه فرعون غرق شوے دے اللّٰه تعالیٰ دَ هغه بدن دوی ته ښکاره کړو اوپه دیکښ دوه توجیهات دی۔ یودا چه بدن دَ فرعون بغیرد روح نه غاړه دَ دریاب باندے اوغورځولے شولکه چه اوس مشهوره ده چه دَ قاهرے په عجائب ګهرکښ هغه بدن کیخودلے شویدے۔ دویمه توجیه دا ده چه دَ دهٔ بدن دَ اوبودَ پاسه دوی ته ښکاره کړے شواودَ دوی دَ زړونونه شك اووتلو﴿نُنَجِّيْكَ﴾ دَ نجوة نه اخستلے شوے دے اونجوة اوچت مکان ته وئیلے شی﴿بِبَدَنِكَ﴾ مراد دَ بدن نه وجود (جوئه) بے وسه ده ﴿اٰيَةً﴾ عبرت دَ هغه چا دپاره چه دَ ربوبیت دعوے کوی یا تکبرکوی دَ حکمونودَ اللّٰه تعالیٰ نه ﴿عَنْ اٰيٰتِنَا﴾ اشاره ده چه دَ اللّٰه تعالیٰ دَ عذابونودا یوه نخه نه ده ډیرے نخے دی۔

[۹۳] په دے آیت کښ ذکردَ حال دَ بنی اسرائیلودے پس دَ غرقیدلودَ فرعون نه۔ په دوئ باندے انعامات اجمالیه پدے آیت کښ بیان شول یومکان دویم روزی دَ طیباتونه اوبیا دَ دوی ناشکری په اختلاف سره په حق کښ پس دَ علم نه داهم ذکرشوه ﴿مُبَوَّاَ صِدْقٍ﴾دَ دے نه مراد زمکه دَ شام یا دَمصرده۔ اودَ عربوعادت دے چه یوځیزصفت اومدح کوی نوصدق ورسره لګوی که قول وی یا فعل وی یا مکان وغیره ﴿حَتّٰى جَآءَهُمُ الْعِلْمُ﴾ مراد دَ علم نه قرآن دے یعنی دَ قران دَ نزول نه روستوپه دوی کښ اختلاف راغے۔ یا مراد دَ علم نه تورات دے یعنی په توارات کښ په باطل تاویلونو او تحریفونوسره اختلافات پیدا شول۔

[۹٤] هرکله چه مخکښ آیت کښ ذکرکړے شواختلاف دَ اهل کتابواو دا اختلاف سبب وی دپاره دَ شك نودے آیت کښ دَ شك دَ زائل کولودپاره طریقه ئے بیان کړه چه هغه تپوس کول دی دَ علمائے حق نه۔ بیا دے آیت کښ درے توجیه دی اوله توجیه دا ده چه خطاب نبی کریم ﷺ ته دے ۔ او شك په معنیٰ مشهورے سره دے لیکن حرف دَ اِن دلالت نه کوی په وجود دَشی باندے اودے وجے نه دَ دے آیت دَ نزول نه

مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿٩٥﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ حَقَّتْ عَلَيْهِمْ كَلِمَتُ رَبِّكَ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿٩٦﴾ وَلَوْ جَآءَتْهُمْ كُلُّ
اٰيَةٍ حَتّٰى يَرَوُا الْعَذَابَ الْاَلِيْمَ ﴿٩٧﴾ فَلَوْ لَا كَانَتْ قَرْيَةٌ اٰمَنَتْ فَنَفَعَهَآ اِيْمَانُهَآ اِلَّا قَوْمَ
يُوْنُسَ ؕ لَمَّآ اٰمَنُوْا كَشَفْنَا عَنْهُمْ عَذَابَ الْخِزْيِ فِى الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَمَتَّعْنٰهُمْ اِلٰى حِيْنٍ ﴿٩٨﴾ وَلَوْ

دَ تاوانیانونه (۹۵) یقیناً هغه کسان چه پوره شوے ده په هغوی باندے فیصله دَرب ستا ایمان نه راوړی (۹۶) اګرکه راشی دوئ ته هره نخه تردے چه اُوینی دوئ عذاب درد ناك(۹۷) پس ولے نه وو یوکلی والا چه ایمان ئے راوړے وے پس چه فائده ورکړیوے هغوی ته ایمان دَهغی مګر قوم دَیونس(علیه السلام) هرکله چه دوئ ایمان راوړو نولرے کړو مونږ دَ دوئ نه عذاب دَشرمندګئ په ژوند دُنیوی کښ اومزے ورکړے مونږ دوئ لره تریووخت پورے (۹۸) او که

روستو رسول اللّٰهﷺ اوفرمائیل چه نه ځه شك کوم اونه تپوس کوم، دویمه توجیه دا ده چه شك په معنیٰ دَ تنګ والی دَ زړه دے نومطلب دا دے چه که ستا زړه تنګیږی په مخالفت دَ دے کسانو، نوصبرکوه اوتپوس اوکړه دَعلماءِ حق نه چه خبردرکړی تاله په صبرکولودَ تیرشوو پیغمبرانو دریمه توجیه ئے دا ده چه په آیت کښ خطاب دے مشرکانوته چه هغی به اعتماد کوؤپه خبرو دَکتابیانو، معنیٰ دا ده چه اُوایه اے پیغمبره مشرك ته که ئے ته په شك کښ دَ هغے کتاب اودَ مسئلے دَ توحیدنه چه بیان کړے دے مونږه تاته نوتپوس اوکړه دَ نیکانوعلماؤدَ اهل کتابونه﴿فَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الْمُمْتَرِيْنَ﴾ په دے کښ هم خطاب نبیﷺ ته دے او مراد ترینه امت دے یا مراد دَ دے نه امتراء (شك) کول دی په نزول دَ عذاب کښ په منکرینوباندے۔

[۹۵] دا تفریع ده په شك کولوباندے یعنی شك کول سبب دَ تکذیب او تکذیب سبب دَ خسران دے۔

[۹۶] دے آیت کښ زورنه ده منکرینوته مراد دَکلمے نه عذاب دَ اللّٰه تعالیٰ دے په سبب دَ انکاردَ دوی۔ اوداکلمه په تقدیرکښ لیکلے شویده۔

[۹۷] دا دَ مخکښ آیت سره تعلق لری چه دوی ته هر قسم آیت راشی نو دوی ایمان نه راوړی ترهغے پورے چه عذاب وینی نوبیا به ایمان راوړی لیکن فائده به نه ورکوی۔

نکته: کُلُّ اٰيَةٍ، نه مراد جمع آیات دی نوځکه ئے فِعل مؤنث راوړو۔

[۹۸] په دے آیت کښ ذکردَ توبے دَ قوم دَ یونس(علیه السلام) دے چه دوی په وخت باندے توبه ویستله نودَ عذاب نه بچ شول مفسرینو لیکلی دی چه قوم دَ یونس(علیه السلام) په علاقه دَ موصل، نینوا کلی کښ آباد وؤ اوشرك ئے کوو نویونس(علیه السلام) دوی ته دعوت دَ توحید ورکړو ډیره زمانه ، لیکن دوی انکارکوؤ نویونس(علیه السلام) ته وحی راغله چه دے قوم له خبر ورکړه چه درے ورځے پس په دوی باندے عذاب راتلونکے دے که چرے دوی ایمان راونړو، هرکله چه دریمه ورځ نزدے شوه نویونس(علیه السلام) دَ دوی نه سفر اوکړو نو دوی پوهه شول چه عذاب یقیناً راتلونکے دے نو دوی توبه ویستله دَ شرك اودَ کفرنه اواللّٰه تعالیٰ نه ئے دُعا اوغوښتله نو عذاب دَ دوی نه دفع شو۔ صحیح قول په دے کښ دا دے چه عذاب په دوی لانه وؤراغلے دَ عذاب نه مخکښ دوی توبه ویستلے وه ځکه چه په وخت دَ راتللودَ عذاب کښ ایمان او توبه فائده نه ورکوی ﴿فَلَوْلَا﴾ دا په معنیٰ دَ نفی دے ﴿فَنَفَعَهَآ﴾ نافع ایمان هغه دے چه دَ وخت دَ غرغرے نه

شَآءَ رَبُّكَ لَاٰمَنَ مَنْ فِي الْاَرْضِ كُلُّهُمْ جَمِيْعًا ؕ اَفَاَنْتَ تُكْرِهُ النَّاسَ حَتّٰى يَكُوْنُوْا مُؤْمِنِيْنَ ﴿٩٩﴾ وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ اَنْ تُؤْمِنَ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ وَيَجْعَلُ الرِّجْسَ عَلَى الَّذِيْنَ لَا يَعْقِلُوْنَ ﴿١٠٠﴾ قُلِ انْظُرُوْا مَاذَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَمَا تُغْنِي الْاٰيٰتُ وَالنُّذُرُ عَنْ قَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُوْنَ ﴿١٠١﴾ فَهَلْ يَنْتَظِرُوْنَ

غوښتے رب ستا خامخا ایمان به راوړے وے هغه چاچه په زمکه کښ دی ټولو په جمع سره آیا پس ته زورکولے شے په خلقو دے دپاره چه دوی مؤمنان شی(۹۹) اونه شی کیدے دپاره دَهیچا چه ایمان راوړی مگرپه توفیق دَ اللّٰه تعالیٰ او اچوی اللّٰه تعالیٰ پلیتی په هغه کسانو باندے چه عقل نه لری(۱۰۰) اُوایه اوګورئ چه څنګه دلیلونه دی دَ توحید په آسمانونو اوپه زمکه کښ اوفائده نه ورکوی دلیلونه اویره ورکوونکی هغه قوم ته چه ایمان نه راوړی(۱۰۱) پس نه کوی انتظار دوئ

محکښ وی ﴿اِلَّا قَوْمَ يُوْنُسَ﴾ دا استثناء منقطع ده یعنی دوی ایمان نافع راوړے وؤ زجاج نه نقل دے چه دوی عذاب نه وؤ لیدلے صرف علامات دَ عذاب ئے اولیدلو او ﴿كَشَفْنَا﴾ په معنیٰ دَ نفس لرے کولوسره دے یا استثناء متصل ده یعنی دوی عذاب اولیدلویعنی قریب وؤ چه نازل شویوے لیکن په توبے سره هغه عذاب لرے کړے شونو دا دَ دغه قوم خصوصیت دے ځکه چه اللّٰه تعالیٰ په خپل ارادے سره کارکوی اوبل دا چه اللّٰه تعالیٰ دَ دوی دَ اخلاص دَ توبے نه خبر وؤنودَ دوی توبه ئے قبوله کړه نو کَشَفنَا په خپل معنیٰ سره دے یعنی عذاب نزدے وؤ چه نازل شوے وے لیکن اللّٰه تعالیٰ دَ دوی نه ییرته واړ وؤ۔

[۹۹] په دے ایت کښ تسلّی ده پیغمبرته چه ایمان دَ دے خلقوپه مشیت دَ اللّٰه تعالیٰ سره دے ستا اختیاراو زورپدیکښ نه چلیږی ﴿شَآءَ رَبُّكَ﴾ یعنی ایمان دَ دوی په مشیت دَ اللّٰه تعالیٰ سره دے اومراد دَ مشیت نه مشیت دَ لطف اومهربانئ دے لیکن اللّٰه تعالیٰ دا مشیت په باره دَ ټولو کښ نه دے کړے بلکه دَ چا دپاره ئیے ایمان په تقدیر کښ لیکلے دے نوصرف هغوی ایمان راوړی اومعتزله وائي چه دَ دے نه مراد مشیت جبری دے یعنی جبردَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه نیشته دَ هر چا خپله خوښه وی اودوی تقدیرنه منی۔

[۱۰۰] دا ایت تفصیل دَ ما قبل دے یعنی دَ ټولودَ ایمان راوړلومشیت اللّٰه تعالیٰ نه دے کړے بلکه بعض په اذن دَ اللّٰه تعالیٰ سره ایمان راوړی اوبعض په پلیتئے دَ شرك کښ پریږدی اوپه دے ایت کښ هم تسلّی ده پیغمبرته چه ایمان دَ خلقوپه توفیق دَ اللّٰه تعالیٰ سره دے اوکوم خلق چه په حق باندے نه پوهیږی نوهغی په پلیتئے دَ شرك اودَ کفرکښ غورځوی دلته دَ اِذن نه مراد تقدیر الٰهی اوتوفیق دے او رِجسَ نه مراد شرك یا عذاب دے۔

[۱۰۱] په دے ایت کښ دعوت دے منکرینو ته دپاره دَ فکرکولوپه عقلی دلیلونوکښ اوبیا زورنه ده په ایمان نه راوړلودَ وجے دَ عناد نه۔ اوپه دے ایت کښ دلیل دے چه انسان مجبورمحض هم نه دے بلکه دے مکلف دے په نظر اوفکرکولوسره دپاره دَ حاصلولودَ هدایت ﴿لَا يُؤْمِنُوْنَ﴾ مراد دَ دے نه ضد اوعناد کوؤنکی دی۔

إِلَّا مِثْلَ أَيَّامِ الَّذِينَ خَلَوْا مِن قَبْلِهِمْ ۚ قُلْ فَانتَظِرُوا إِنِّي مَعَكُم مِّنَ الْمُنتَظِرِينَ ﴿١٠٢﴾ ثُمَّ
نُنَجِّي رُسُلَنَا وَالَّذِينَ آمَنُوا كَذَٰلِكَ ۚ حَقًّا عَلَيْنَا نُنجِ الْمُؤْمِنِينَ ﴿١٠٣﴾ قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِن
كُنتُمْ فِي شَكٍّ مِّن دِينِي فَلَا أَعْبُدُ الَّذِينَ تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ وَلَٰكِنْ أَعْبُدُ اللَّهَ الَّذِي
يَتَوَفَّاكُمْ ۖ وَأُمِرْتُ أَنْ أَكُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿١٠٤﴾ وَأَنْ أَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا ۖ وَلَا تَكُونَنَّ

مګر په شان د واقعاتو دَهغه کسانو چه تیر شوی دی مخکښ د دوی نه ټُوایه پس انتظار کوئ یقیناً څه ستاسوسره د انتظار کوونکونه یم (۱۰۲) بیاواورئ بچ کړی دی مونږ رسولان خپل اوهغه کسان چه ایمان ئې راوړے دغسے لازم ده په مونږ چه بچ کړو به مؤمنانولره (۱۰۳) اُوایه چه اے خلقو که ئے تاسو په شك کښ د دین ځمانه پس څه نه کوم بندګی دَهغه کسانو چه تاسو بندګی کوئ دَهغئ سیوا د اللّٰه تعالیٰ نه لیکن څه بندګی خاص کؤم د اللّٰه تعالیٰ (هغه اللّٰه تعالیٰ) چه مرګ راولی په تاسو اوحکم شویدے ماته چه یم دے څه دَمؤمنانو د ډلے نه (۱۰٤) (اووئیلے شوی دی ماته) چه برابر کړه ځان خپل دین ته چه کلك ئے په توحید اومه کیږه

[۱۰۲] په دے ایت کښ یره د عذاب دُنیوی ده منکرینوته ﴿أَيَّامِ﴾ نه مراد واقعات د عذاب دی د مخکښ قومونو څکه د ایّام اطلاق په واقعاتودَ عذاب باندے کیږی اودارنګ په انعاماتو باندے هم اطلاق کیدے شی۔

[۱۰۳] په دے ایت کښ زیږے دے مؤمنانوته په نجات سره۔ ثُمَّ په دے ایت کښ دپاره د تعقیبِ ذکری دے او دا صرف عطف دپاره دے اومعطوف علیه محذوف دے فنهلك المكذبين وننجي اه۔ اودا فعل مضارع په معنیٰ دَماضی سره ده په قرینه دَخلَوا من قبلهم سره ﴿حَقًّا عَلَيْنَا﴾ حق دوه قسمه دے یوحق تفضلی دے یعنی د وعدے په وجه سره اللّٰه تعالیٰ په ځان باندے لازم کړے دے۔ دویم حق ایجابی استحقاقی دے دا دویم په اللّٰه تعالیٰ باندے نیشته څکه اللّٰه تعالیٰ فعال لمایرید دے اوقادردے په هرڅه باندے نوپه هغه باندے د هیڅا حقِ واجبه نیشته اودَ دے وجے نه سوال په وسیله د بحق فلان منع دے که د حق نه مراد دویمه معنیٰ شی نو هغه خوپه اللّٰه تعالیٰ باندے نیشته اوکه اوله معنیٰ شی نوداموهم دے وهم د دویمے معنیٰ پیدا کوی اوهیڅ صحیح حدیث په دے کښ نیشته دے ﴿حَقًّا عَلَيْنَا﴾ مراد د دے نه حق تفضلی دے حق واجبه نه دے مراد څکه چه اللّٰه تعالیٰ باندے څه شے نشی واجب کیدے۔

[۱۰٤] په دے آیت کښ حکم دے پیغمبرته دپاره د بیان تفصیلی د توحید اوپدے آیت کښ رد د شرك فی العبادات دے حاصل دا دے چه که خلق شك کوی په دین اسلام کښ نودوی ته بیان اوکړه د اصل مسئلے چه توحید دے۔ څکه چه فرق د دین اسلام د نورودینونونه په توحید سره دے۔

فائده: شك وائي برابر والی د دوه طرفونوته نودا لفظ ئے څکه ذکرکړو چه فرعی عبادات او اکثرمعاملات د مشرکینو اودَ مؤمنانو یوشان وؤ۔ نوشك راغے چه د دوی په مینځ کښ څه فرق دے نوپه دے آیت کښ هغه فرق ئے بیان کړوپه توحید سره۔ فلا اعبدنه مخکښ د ان جزاء پته ده یعنی فاستمعوالازالة الشّك (غوږ کیدے دپاره د زائل کولودَ شك) ﴿الَّذِي يَتَوَفَّاكُمْ﴾ په ذکر د وفات سره اشاره ده حیاتِ سابقه اوتربیت نه ترمرګه پورے چه هغه دلیل دے دپاره د قدرت د اللّٰه تعالیٰ اوتخصیص د وفات

مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿١٠٥﴾ وَلَا تَدْعُ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَنْفَعُكَ وَلَا يَضُرُّكَ ۚ فَاِنْ فَعَلْتَ فَاِنَّكَ اِذًا
مِّنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿١٠٦﴾ وَاِنْ يَّمْسَسْكَ اللّٰهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهٗۤ اِلَّا هُوَ ۚ وَاِنْ يُّرِدْكَ بِخَيْرٍ فَلَا رَآدَّ
لِفَضْلِهٖ ؕ يُصِيْبُ بِهٖ مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ ؕ وَهُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ﴿١٠٧﴾ قُلْ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ قَدْ

دَ ډلے دَمشرکانونه (١٠٥) اومه وایه رامددشه سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه هغه چاته چه نه نفع رسولے شی تاته اونه ضرر رسولے شی تاته پس کهٔ اوکړو تاداکار پس یقیناً تهٔ په دغه وخت کښ به ئے دَ ظالمانونه (١٠٦) اوکه اورسوی تاته اللّٰه تعالیٰ څه تکلیف پس نیشته هیڅوك لرکوونکے دَهغے سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه اوکه اراده اوکړی ستا دَخیر پس نیشته هیڅوك واپس کوونکے دَ فضل دَ هغه رسوی اللّٰه تعالیٰ (داضرر اوخیر) هغه چاته چه اوغواړی دَبندګانو خپلونه او اللّٰه تعالیٰ بخونکے دے رحم کوونکے دے(١٠٧) اُوایه تهٔ اے خلقو یقیناً

ئے دَ دے وجے نه اوکړوچه پدیکښ خوف پیردے﴿وَاُمِرْتُ اَنْ اَكُوْنَ﴾ عبادت عمل دَ ظاهر دے اوایمان باطنی عمل دے اواشاره ده چه عبادت سره ایمان شرط دے۔

[١٠٥] دَ دے ایت په ابتداء کښ لفظ دَ قیل مراد دے ﴿وَجْهَكَ﴾ ذکردَ مخ دے اومراد ترینه ټول نفس اوټول اعمال دی نوپه مخکښ ایت کښ ذکردَ توحید وؤ اوپه دے ایت کښ په هغے باندے امردَ استقامت اواجتناب دَ شرك نه ذکرکوی ﴿الْمُشْرِكِيْنَ﴾ یعنی دَ مشرکانودَ جماعت سره هیڅ تعلق مه ساته۔

[١٠٦] دے ایت کښ رد دَ شرك فی الدعا دے اودایوقسم دے دَ شرك فی العبادت نه چه سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه هیڅ مخلوق لائِق دِ بلنے اودَ حاجت غوښتلونیشته ځکه چه مخلوق اختیارمند دَ نفع اوضررنه دے اوپه دے ایت کښ ظالم وئیلے شویدے هغه چاته چه اللّٰه تعالیٰ نه سیوا بل چاته را مدد شه وائي ۔ او خطاب نبیﷺ ته دے او مراد ترینه عام انسانان دی۔

[١٠٧] دا پشان دَ علت دے دَ مخکښ ایت دپاره چه لائِق دَ بلنے بل څوك ځکه نیشته چه ضرر لرے کول یا خیر ورکول صرف دَ اللّٰه تعالیٰ صفت دے اوپه دے ایت کښ رد دَ شرك فی التصرف دے ﴿لِفَضْلِهٖ﴾ دے کښ اشاره ده دے ته چه اراده دَ خیر دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه دا هم فضل دے اوخیر ورکول دویم فضل دے۔ ﴿يُصِيْبُ بِهٖ﴾ په دے کښ اشاره ده چه تقسیم دَ فضل دَ اللّٰه تعالیٰ په مشیت سره دے نوکه دَ چانه فضل بندشی نودَ وجے دَ قدرت دَ غیراللّٰه نه نه دے بلکه په مشیت دَ اللّٰه تعالیٰ سره دے، بِهٖ، ضمیرصرف فضل ته راجع دے یا ضرر اوفضل هریوته راجع دے۔ (سوال) دَ ضرر سره مس ذکر کړے دے اودَ خیر سره اراده؟ جواب (١) دا ذکر په طریقه دَاکتفاء سره دے یعنی دَ مس سره اراده هم مراد ده اودَ ارادے سره مس هم مراد دے لیکن ذکردَ یوئیے اوکړو اوبل ئیے حذف کړو۔ جواب (٢) انسان ته چه معمولی ضرر اورسی نو ډیرفریادونه کوی اودَ خیراظهارهله کوی چه ډیروی اوداسے په سورة انعام (١٧) کښ دی لیکن پدے سورة کښ دَ شك دَلرے کولودپاره تفصیل ضروری وؤ نوځکه دَ خیرپه جانب کښ اراده اوفضل ئیے ذکرکړو اوسورة انعام کښ دَ دلیلونو ذکرکول مقصد وؤپه هغے کښ اختصارهم کافی دے۔

جَآءَكُمُ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّكُمْ ۚ فَمَنِ اهْتَدٰى فَاِنَّمَا يَهْتَدِيْ لِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ ضَلَّ فَاِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيْهَا ۚ
وَمَآ اَنَا عَلَيْكُمْ بِوَكِيْلٍ ﴿١٠٨﴾ وَاتَّبِعْ مَا يُوْحٰٓى اِلَيْكَ وَاصْبِرْ حَتّٰى يَحْكُمَ اللّٰهُ ۚ وَهُوَ خَيْرُ الْحٰكِمِيْنَ ﴿١٠٩﴾

راغلے دے تاسوته حق دَطرف دَرب ستاسونه پس څوك چه روان شوپه دے حق پس یقیناً روان دے دے دپاره دَفائدے خپلے اوځوك چه واوړیدو دَحق نه پس یقیناً دَاوړیدو تاوان به په دهٔ باندے وی اوځه نه یم ستاسو ذمه وار(١٠٨) اوتابع اوسه دَهغه څه چه وحی کیدے شی تاته اوصبر کوه ترهغے چه فیصله اوکړی اللّٰه تعالیٰ اوهغه غوره دَفیصله کوونکونه دے (١٠٩)

[١٠٨] په دے ایت کښ ترغیب دے قرآن پاك ته دپاره دَ زائِل کولودَ شك اودَ الحَقُّ نه مراد قرآن یا تفصیل دَ توحید دے چه بیان دَ قرآن ټول حق دے اودَ هغے په باره کښ ئے دوه ډلے ذکرکړی دی۔

[١٠٩] دا تسلی اوتشجیع ده پیغمبرته په دعوت دَ توحید اوپه اتباع دَ وحی سره اوپه صبرکولوسره په تکلیفونوباندے ترفیصلے دَ اللّٰه تعالیٰ پورے مراد دَ فیصلے دَ اللّٰه تعالیٰ نه عذاب ورکول دی منکرینوته یا توفیق ورکول دَ ایمان دی۔

سُوْرَةُ هُوْدٍ (١١) مَكِّيَّةٌ (٥٢) بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ اٰيَاتُهَا ١٢٣ رُكُوْعَاتُهَا ١٠

الٓرٰ ۟ كِتٰبٌ اُحْكِمَتْ اٰيٰتُهٗ ثُمَّ فُصِّلَتْ مِنْ لَّدُنْ حَكِيْمٍ خَبِيْرٍ ۙ﴿١﴾ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّا اللّٰهَ ؕ اِنَّنِيْ لَكُمْ مِّنْهُ نَذِيْرٌ وَّبَشِيْرٌ ۙ﴿٢﴾ وَّاَنِ اسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوْبُوْٓا اِلَيْهِ يُمَتِّعْكُمْ مَّتَاعًا حَسَنًا اِلٰٓى اَجَلٍ

الٓرٰ۔ داکتاب دے چه دَحکمت نه ډك شوی دی آیتونه دَ دهٔ بیا واؤرئ چه تفصیل کړے شویدے (د ضروری مسائلو) دَطرف دَحکمت والا خبردار ذات نه دے(١) چه مه کوئ بندگی دَهیچا سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه یقیناً څه ستاسو دپاره دَطرف دَهغه نه یره درکوونکے او زیرے درکوونکے یم(٢) اوبخنه غواړئ دَرب خپل نه او توبه اوباسئی هغه ته نو دربه کړی تاسوته مزے خائسته ترنیټے

سورة هود

ربط: دَ دے سورة دَ مخکښ سورة سره دا دے چه سورة یونس کښ په مسئله دَ توحید باندے عقلی دلیلونه بیان شول نوپدے سورة کښ په هغے مسئله باندے دلیلونه نقلی دَ پیغمبرانونه بیانوی۔ دویم ربط دا دے چه په هغه سورة کښ تفصیل دَ مسئله توحید وونوپدے سورة کښ په تبلیغ دَ هغے سره تشجیع ذکر کوی۔

دعوے دَ دے سورة: څلور دی۔ اول رد دَ شرك فی العبادات دویم آیت کښ دویم رد دَ شرك فی العلم اوفی التصرف پنځم اوشپږم ایتونوکښ۔ دریم تشجیع اوترغیب په تبلیغ دَ توحید باندے په دولسم (١٢) ایت کښ۔ څلورم تسلی په (١٧) کښ۔

خلاصه: دَ دے سورة دا ده چه دے سورة کښ درے بابونه دی اول باب(٢٤) آیت پورے دے په دے باب کښ ترغیب دے قرآن ته اوځلور دعوے دَ سورة دی او زجرونه دی انکارکوونکوته اویره اخروی ده منکرینوته او زیرے دے دپاره دَ منونکو۔

تفسیر

[١] په دے ایت کښ روستودَ ذکر دَ اعجازدَ قرآن نه په آلٓرٰ سره ترغیب دے قرآن پاك ته په بیان دَ دریوصفاتواول صفت ﴿اُحْكِمَتْ اٰيٰتُهٗ﴾ دَ دے یومعنیٰ دا ده چه دَ حکمت نه ډك کړے شوی دی ایتونه دَ ده۔ دویمه معنیٰ دا ده چه محکم ایتونه دی نقصان اوفساد پکښ نه راځی۔ دریمه معنیٰ دا ده چه داکتاب په بل کتاب سره نه منسوخ کیږی۔ دویم صفت ﴿ثُمَّ فُصِّلَتْ﴾ معنیٰ ئے دا ده چه بیان دَ توحید اودَ اصولی مسائلوپه تفصیل سره کړے شوے دے۔ اوثُمَّ لفظ دَ تعقیب ذکری دپاره دے یا معنیٰ دا ده چه جدا جدا اولږلږ نازل کړے شویدے۔ دریم صفت دا دے ﴿مِنْ لَّدُنْ﴾ مطلب دا دے چه دا کتاب محکم ځکه دے چه دَ طرف دَ حَکِیم، نه دے اوتفصیل پکښ ځکه دے چه دَ طرف دَ خَبِیر، نه دے۔

[٢] دے آیت کښ اوله دعویٰ دَ سورة ده چه اللّٰه تعالیٰ سره بندگئ کښ شریك مه جوړوئ اوورسره صدق رسول دے ﴿اَلَّا تَعْبُدُوْٓا﴾ دا مفعول له دَ اُحکِمَت اوفَصِّلَت دے په تقدیردَ لام سره لئلا تعبدوا اودا دلیل دے چه اصل مقصد دَ قرآن رد دَ شرك دے۔

مُّسَمًّى وَّيُؤْتِ كُلَّ ذِيْ فَضْلٍ فَضْلَهٗ ؕ وَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنِّيْٓ اَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ كَبِيْرٍ ۝۳ اِلَى
اللّٰهِ مَرْجِعُكُمْ ۚ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝۴ اَلَآ اِنَّهُمْ يَثْنُوْنَ صُدُوْرَهُمْ لِيَسْتَخْفُوْا مِنْهُ ؕ اَلَا
حِيْنَ يَسْتَغْشُوْنَ ثِيَابَهُمْ ۙ يَعْلَمُ مَا يُسِرُّوْنَ وَمَا يُعْلِنُوْنَ ۚ اِنَّهٗ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ۝۵

مقرر پورے او وربه کړی هرغوره عمل والاته غوره جزا دَ هغه او که تاسو مخ واړوئ پس یقیناً ځه یربرم پتاسو باندے دَعذاب دَ ورځے لوئے نه(۳) خاص اللّٰه تعالیٰ ته ورګرځیدل ستاسو دی اوهغه په هرځیز باندے قدرت والادے (٤) خبردار یقیناً دوئ رانغاړی سینے خپلے (په دُشمنئ دَحق سره) دے دپاره چه ځان پټ کړی دَهغه نه خبردار کله چه دوی ځان پټوی په جامو خپلوکښ نوپوهیږی اللّٰه تعالیٰ په هغے چه پټوی دوئ اوپه هغے چه ښکاره کوی دوئ یقیناً اللّٰه تعالیٰ پوهیږی دَسینو په خبرو باندے(٥)

[۳] استغفار اوتوبه کښ فرق دا دے چه استغفارپه ژبے سره دے او توبه په زړه سره ده۔ دویم دا چه استغفار مطلب دا دے چه مخکښ کم کفراوشرك ئے کړے دے نودَ هغے نه بخته اوغواړی۔ نوتوبه دا ده چه اللّٰه تعالیٰ ته وراوګرځئی په طاعت اوپه توحید سره اودَ دے ئے دوه فائدے ذکرکړی دی یو ﴿مَتَاعًا حَسَنًا﴾ چه هغه اطمینان دَ ژوند دے اودَ هغے تفصیل په سورة نوح (۱۲،۱۱) کښ دے اودویم ﴿وَيُؤْتِ كُلَّ ذِيْ فَضْلٍ فَضْلَهٗ﴾ یعنی خاوند دَ خائسته عمل ته زیاته جزا ورکول چه هغه جنت دے ﴿وَاِنْ تَوَلَّوْا﴾ دَ ترغیب نه روستوتخویف دے۔

[٤] په دے آیت کښ یره اُخروی ده ﴿قَدِيْرٌ﴾ اشاره ده هغه انعامات اوعذابونه چه مخکښ آیت کښ ذکرشول سرهٔ دَ دوباره ژوند نه چه په دے ټولوځیزونوقادر دے۔

[٥] دا دویمه دعوه دَ سورة ده۔ یعنی اللّٰه تعالیٰ په هرځه عالم دے دَ هغه نه څه شے پټ نیشته۔ اوپه دے آیت کښ ذکردَ دُشمنئ دے دَ مشرکانودَ پیغمبراودَ مؤمنانوسره معنیٰ دا ده چه دوی دَ پیغمبر اومؤمنانوسره په زړونوکښ پټه دُشمنی ساتی او خیال ئے دا دے چه اللّٰه تعالیٰ دَ دے نه خبرنه دے لیکن اللّٰه تعالیٰ فرمائی که دوی په ځان باندے جامے واچوی اوپه زړونوکښ دشمنی پټه اوساتی نوهم اللّٰه تعالیٰ په هغے خبردے ﴿لِيَسْتَخْفُوْا مِنْهُ﴾ ضمیردَ مِنهُ اللّٰه تعالیٰ ته راجع دے په زعم دَ دوی سره یارسول ته راجع دے اوپه دے ایت کښ منافقان اوحسد کوؤنکی دَ حق پرستوسره هم داخل دی۔

وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ فِي الْاَرْضِ اِلَّا عَلَى اللّٰهِ رِزْقُهَا وَيَعْلَمُ مُسْتَقَرَّهَا وَمُسْتَوْدَعَهَا ؕ كُلٌّ فِيْ كِتٰبٍ
مُّبِيْنٍ ۝٦ وَهُوَ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ فِيْ سِتَّةِ اَيَّامٍ وَّكَانَ عَرْشُهٗ عَلَى الْمَآءِ لِيَبْلُوَكُمْ
اَيُّكُمْ اَحْسَنُ عَمَلًا ؕ وَلَئِنْ قُلْتَ اِنَّكُمْ مَّبْعُوْثُوْنَ مِنْۢ بَعْدِ الْمَوْتِ لَيَقُوْلَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِنْ هٰذَآ
اِلَّا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ۝٧ وَلَئِنْ اَخَّرْنَا عَنْهُمُ الْعَذَابَ اِلٰٓى اُمَّةٍ مَّعْدُوْدَةٍ لَّيَقُوْلُنَّ مَا يَحْبِسُهٗ ؕ اَلَا يَوْمَ

او نیشته هیڅ زنده سر په زمکه کښ مګر په الله تعالیٰ باندے روزی د هغوی ده او پوهیږی الله تعالیٰ په ځائے د آرام د هغوی او په ځائے ډامانت د هغوی داټول په کتاب ښکاره کښ دی (٦) اوخاص الله تعالیٰ هغه ذات دے چه پیداکړی ئے دی آسمانونه اوزمکه په اندازه دشپږو ورځوکښ او وو عرش د الله تعالیٰ په اوبو باندے دے دپاره چه ازمیښت اوکړی ستاسو چه کم یوستاسو ځائسته عمل والا دے اوکه ته اُوائے یقیناً تاسو به پورته کیدے شئ پس دمرګ نه خامخا وائی کافران چه نه ده داخبره مګر دروغ دی ښکاره (٧) اوکه روستو کړو مونږ د دوی نه عذاب (د دُنیا) تر یومودے لږے پورے خامخا دوی وائی چه څه څیز بندکړو عذاب لره خبردار په کومه ورځ

[٦] په دے کښ د دویمے دعوے دویم جزدے یعنی کارسازاوذمه واردَ رزق صرف الله تعالیٰ دے تفسیرد مُستَقَراودَ مُستَودَع سورة انعام کښ تیرشوے دے﴿كِتٰبٍ مُّبِيْنٍ﴾ مراد د دے نه لوح محفوظ دے اوهغه کتاب د تقدیرهم دے۔ دا آیت دلیل دے په تقدیرمطلق باندے ﴿دَآبَّةٍ﴾ په اصل لغت کښ هرهغه څیز ته وئیلے شی چه په زمکه باندے ګرځی اوپه عرف کښ چارپایانوته وئیلے شی اوخاص کر اَس ته وئیلے شی دلته عامه معنیٰ مراد ده چه په هغے کښ انسانان دا خل دی﴿عَلَى اللّٰهِ﴾ دا وجوب تفضلی دے ایجابی نه دے یعنی الله تعالیٰ ځان باندے دا ذمه واری کیخودلے ده۔

[٧] د دے آیت په اوله حصه کښ ذکرد تصرف اوخالقیت د الله تعالیٰ دے متعلق دے دمخکښ ایت سره چه خالق هم الله تعالیٰ دے لکه چه رازق دے اودویمه حصه کښ زورنه ده په انکارد بعث بعدالموت باندے ځکه د ایت اوله حصه په عظیم قدرت د الله تعالیٰ باندے دلالت کوی نوبعث بعدالموت باندے هم قادردے نوانکارکوونکی د ډیرے زورنے مستحق دی ﴿وَكَانَ عَرْشُهٗ عَلَى الْمَآءِ﴾ حدیث د بخاری دلالت کوی په دے باندے چه دآسمانونواو زمکونه مخکښ الله تعالیٰ عرش پیداکړے وو۔ اوعرش د الله تعالیٰ په اوبوباندے وؤ۔ بیائے روستوآسمانونه اوزمکه پیدا کړل۔ اودَ دے په ظاهرباندے ایمان لرل لازم دی تاویل د دے کول چه معنیٰ دا ده چه بادشاهی په ټولوموجودا توده اوکان زائد دے دا قول د معتزله اوبعض متصوفه دے اوباطل دے﴿اَحْسَنُ عَمَلًا﴾ د فضیل بن عیاض نه نقل دی چه احسن عمل هغه دے چه په هغے کښ اخلاص وی یعنی د شرك اودریاء نه پاك وی۔ اوهغه په طریقه د سنت باندے وی که په دے دواړو کښ یوځزکم وی نوخائسته عمل ورته نشی وئیلے کیدے او دارنګ په سورة کهف (٧) اوسورة ملك (٢) کښ ذکردی﴿لِيَبْلُوَكُمْ﴾ مراد د بلاء نه حقیقت خودل دی یعنی دنیاکښ هرځوك ګمان کوی چه ځما عمل ځائسته دے لیکن الله تعالیٰ به د دے حقیقت اوښائی په ورځ د قیامت کښ لیکن حقیقت د څیزونوپه امتحان سره معلومیږی په نیز د انسانانودَ دے وجے نه دیته ابتلاء وئیلے شی۔ اومکان د ابتلاء دنیا

يَأْتِيهِمْ لَيْسَ مَصْرُوفًا عَنْهُمْ وَحَاقَ بِهِمْ مَّا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِءُونَ ﴿٨﴾ وَلَئِنْ أَذَقْنَا الْإِنسَانَ مِنَّا
رَحْمَةً ثُمَّ نَزَعْنَاهَا مِنْهُ إِنَّهُ لَيَئُوسٌ كَفُورٌ ﴿٩﴾ وَلَئِنْ أَذَقْنَاهُ نَعْمَاءَ بَعْدَ ضَرَّاءَ مَسَّتْهُ لَيَقُولَنَّ ذَهَبَ
السَّيِّئَاتُ عَنِّي إِنَّهُ لَفَرِحٌ فَخُورٌ ﴿١٠﴾ إِلَّا الَّذِينَ صَبَرُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أُولَٰئِكَ لَهُم مَّغْفِرَةٌ
وَأَجْرٌ كَبِيرٌ ﴿١١﴾ فَلَعَلَّكَ تَارِكٌ بَعْضَ مَا يُوحَىٰ إِلَيْكَ وَضَائِقٌ بِهِ صَدْرُكَ أَن يَقُولُوا لَوْلَا أُنزِلَ

چه راشی دویته نو وابه نه ړولے شی د دوی نه او راکیږه کړی دوئ لره هغه شے چه دوئ په هغے پورے ټوقے کوی(۸) او که اوخکوؤ مونږه یو انسان ته د ځپل طرف نه څه نعمت بیائے راکاړو د هغه نه نو یقیناً دے خامخا نا اُمیده ناشکره به وی (۹) او که اوخکوؤ مونږ ده ٔ ته نعمت پس د تکلیف نه چه رسیدلے وی ده ٔ ته خامخا وائی دے لاړل ټول تکلیفونه مُحمانه یقیناً دے خامخا تکبر کوونکے فخر کوونکے وی(۱۰) مګر هغه کسان چه کلك ایمان والادی اوعملونه ئے کړی دی په طریقه د ٔپیغمبر دغه کسان دوی دپاره بخنه ده او اجرلوئے دے(۱۱) پس آیاته پریخودونکے ئے بعضے د ٔهغے چه وحی کړے شویده تاته (مسئله د ٔتوحید) اوآیا تنګیږی په دے سره سینه ستا د ٔ دے وجے نه چه دوی وائی ولے نه شی نازلیدلے

ده د ٔ دے وجے نه لیبلوا متعلق دے په خلق پورے ﴿سِحْرٌ مُّبِينٌ﴾ دلته په معنیٰ د ٔ دروغ اود ٔ باطل دے لکه چه قاموس لیکلی دی معنیٰ د ٔ جادو دلته کښ نه صحیح کیږی مُحکه چه هذا اشاره ده قول د ٔ بعث بعد الموت ته۔

[۸] دے آیت کښ بله زورنه ده منکرینوته اویره ده په عذاب دنیوی سره ﴿أُمَّةٍ مَّعْدُودَةٍ﴾ اُمّةٍ په قرآن کښ په ډیرو معانو سره دے لکه چه په تفسیرد سورة بقره کښ ذکردی نودلته په معنیٰ د ٔ مدد سره دے۔ ﴿مَا يَحْبِسُهُ﴾ دا په طریقه د ٔ استهزاء سره دے ﴿مَصْرُوفًا﴾ یعنی الله تعالیٰ راولی اود ٔ هیڅا طاقت نه رسی چه هغه عذاب بل خوا واړوی ﴿يَسْتَهْزِءُونَ﴾ مضاف حذف دے یعنی وبال او ﴿مَا كَانُوا﴾ کښ ما مصدریه دے (وبال استهزائهم) یا ماپه معنیٰ د ٔ عذاب دے اویستهزءون په معنیٰ د ٔ یستعجلون دے یعنی هغه عذاب چه دوی په تلوار سره غوختلو۔

[۹] دے آیت کښ هم زورنه ده انسان ته په کمزوروالی د ٔ عقیدے د ٔ ده ٔ په وخت د ٔ انتقال کښ د ٔ نعمت نه محنت ته ﴿لَيَئُوسٌ كَفُورٌ﴾ یومعنیٰ دا ده چه د ٔ الله تعالیٰ د ٔ رحمت نه نا امیده شی اود ٔ هغه د ٔ نعمتونونه ناشکری کوی دویمه معنیٰ دا چه انسان مشرك په حال د ٔ ډیره سختئ کښ د ٔ خپلومعبودانوباطلونه نا امیده شی اوداسے په سورة حم سجده (٤٦) کښ دی ﴿لَيَئُوسٌ كَفُورٌ﴾ اول حالت د ٔ باطن دے اودویم حالت د ٔ ژبے اود ٔ ظاهر دے۔

[۱۰] دے ایت کښ هم زورنه ده په وخت د ٔ انتقال کښ د ٔ محنت نه نعمت ته چه انسان په حالت د ٔ نعمت کښ تکبراو لوئي کوی۔ نسبت د ٔ ذوق د ٔ نعمت الله تعالیٰ ته اشاره ده چه نعمت د ٔ الله تعالیٰ خالص په رحم د ٔ الله تعالیٰ سره دے ﴿ذَهَبَ السَّيِّئَاتُ عَنِّي﴾ مطلب ئے دا دے چه تکالیف مُحما نه لاړل مُحما په تدبیرونوسره یا مُحما د ٔ معبودانوپه زورسره ﴿فَخُورٌ﴾ فخر دا دے چه خپل صفتونه خلقوته ذکرکوی اودا فرح اوفخر منع کوی ده ٔ لره د ٔ شکرکولونه۔

[۱۱] دے کښ زیرے دے منونکو لره ﴿صَبَرُوا﴾ نه مراد دا دے چه په حالت د ٔ نعمت کښ اوپه حالت

عَلَيْهِ كَنْزٌ اَوْ جَآءَ مَعَهٗ مَلَكٌ ؕ اِنَّمَآ اَنْتَ نَذِيْرٌ ؕ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ وَّكِيْلٌ ﴿۱۲﴾ اَمْ يَقُوْلُوْنَ افْتَرٰىهُ ؕ
قُلْ فَاْتُوْا بِعَشْرِ سُوَرٍ مِّثْلِهٖ مُفْتَرَيٰتٍ وَّادْعُوْا مَنِ اسْتَطَعْتُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۱۳﴾
فَاِلَّمْ يَسْتَجِيْبُوْا لَكُمْ فَاعْلَمُوْٓا اَنَّمَآ اُنْزِلَ بِعِلْمِ اللّٰهِ وَاَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ فَهَلْ اَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴿۱۴﴾

په دهٔ باندے خزانه یاولے نه کړئی دَ دهٔ سره ملك یقیناً ته یره ورکوونکے ئے او اللّٰه تعالیٰ دَهرشیز ذمه وار دے (۱۲) آیا وائی دوی چه دَځان نه ئے جوړ کړے دے دا قرآن، تهٔ اُوایه پس راوړئ لس سورتونه پشان دَ دهٔ دَځان نه جوړ شوی او را اوغواړئ هغه څوك چه طاقت لرئ تاسو سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه که تاسو رشتینی ئیے (۱۳) پس که دوی قبوله نکړی خبره ستاسو پس پوهه شئ چه یقیناً نازل شوے دا قرآن په علم دَ اللّٰه تعالیٰ سره او په دے خبره چه نیشته حقدار دَ بندګئ سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه پس آیا تاسو منونکی دَحکم یئ (یعنی اومنئ)(۱٤)

دَسختئی کښ ټینګ دے په ایمان باندے ﴿صَبَرُوْا﴾ په مقابله دَ لیئوس کفورکښ او ﴿عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ﴾ په مقابله دَ فرح فخورکښ دے او ﴿مَّغْفِرَةٌ﴾ متعلق دے دَ صبرکولو سره په مصیبتونو باندے او ﴿اَجْرٌ كَبِيْرٌ﴾ په سبب دَ عمل صالح سره دے۔

[۱۲] په دے آیت کښ دریمه دعوه دَ سورة ده چه هغه تشجیع ده په بیان دَ توحید باندے یعنی که دا مشرکان په تا اعتراضونه کوی نودَ هغے دَ وجے نه دِ ستازړه تنګ نشی اوبیان دَ توحید پرے نږدے ﴿فَلَعَلَّكَ﴾ په دے ځاے کښ دپاره دَ استفهام انکاری دے یعنی (اے نبیﷺ ته پریخودونکے نه ئیے) ﴿فَلَعَلَّكَ﴾ فَا تفریع ده په څلورو حالاتو تیر شوو باندے سحروئیل، استهزاکول، ناشکری کول، فخر او تکبر کول داپه اکثرواوقاتوکښ سبب اوګرزی دپاره دَ مداهنت دَ مبلغ نوپه دے آیت کښ دَ هغئ نه منع اوکړله ﴿وَضَآئِقٌ﴾ داعطف دَ سبب دے په مسبب باندے یعنی تنګیدل سبب وی دپاره دَ پریخودلودَ حق ﴿كَنْزٌ اَوْ جَآءَ مَعَهٗ مَلَكٌ﴾ دا دوه قوتونوته اشاره ده اول قوتِ ظاهری اودویم قوت باطنی۔

[۱۳] دا زورنه ده منکرینودَ قرآن ته اوبیان دَ اعجازدَ قرآن دے په طلب دَ مقابلے سره په لسو سورتونو سره۔ وئیلے شوی دی چه دَ مخالفینوپه هغه وخت کښ لس لوئے قبیلے وے نودَ هرے قبیلے نه دَ یویوسورة دَ راوړلوطلب کړے شوے وو۔ یا داچه تردے ځائے پورے دَ ابتدا نه لس سورتونه دی نوپه تشبیه کښ دغه سورتونوته اشاره ده۔ سوال: سورة یونس کښ مقابله په یوسورة سره ذکرکړے ده اوپه دے کښ په لسوسره اودا سورة دَ سورة یونس نه روستو نازل شویدے نوپه څه دلته ترقی دَکم نه زیات ته اوشوه؟ نو مبرد جواب کښ وئیلی دی چه په سورة یونس کښ مقابله په احکامو او وعد اووعید اواخبار بالغیب الصادق سره ذکر وه اودَ هغے دپاره دَ یوسورة راوړل هم کافی دی اوپه دے سورة کښ مقابله په صرف فصاحت او بلاغت سره مراد ده نودَ دے دپاره دِپرسورتونه پکار دی چه تقابل اوفرق معلوم شی۔

[۱٤] دے ایت کښ بیان دَ صدق دَ قرآن دے اوبیان دَ هغے مسئلے دے چه قرآن دَ هغے مسئلے دپاره نازل شویدے چه هغه لآاِلٰهَ اِلَّاهُوَدے ﴿لَكُمْ﴾ جمع کښ اشاره ده چه مؤمنان هم په طلب دَ مقابله کښ دَ نبیﷺ سره شریك دی ﴿بِعِلْمِ اللّٰهِ﴾ یعنی مشتمل په علمونودَ اللّٰه تعالیٰ سره اودَ اللّٰه تعالیٰ دَ علمونومخلوق

مَنْ كَانَ يُرِيْدُ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا وَ زِيْنَتَهَا نُوَفِّ اِلَيْهِمْ اَعْمَالَهُمْ فِيْهَا وَهُمْ فِيْهَا لَا يُبْخَسُوْنَ ﴿۱۵﴾
اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ لَيْسَ لَهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ اِلَّا النَّارُ ۖ وَحَبِطَ مَا صَنَعُوْا فِيْهَا وَبٰطِلٌ مَّا كَانُوْا
يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۶﴾ اَفَمَنْ كَانَ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّهٖ وَيَتْلُوْهُ شَاهِدٌ مِّنْهُ وَمِنْ قَبْلِهٖ كِتٰبُ مُوْسٰٓى
اِمَامًا وَّرَحْمَةً ۭ اُولٰٓئِكَ يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ ۭ وَمَنْ يَّكْفُرْ بِهٖ مِنَ الْاَحْزَابِ فَالنَّارُ مَوْعِدُهٗ ۚ فَلَا تَكُ فِيْ
مِرْيَةٍ مِّنْهُ ۣ اِنَّهُ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۷﴾ وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى

هغه څوك چه غواړي (په عمل خپل سره) ژوند دَ دُنيا او ډول (خائست) دَ هغې نوپوره به ورکړو دوئ ته بدله دَ عملونو دَ دوئ په دُنيا کښ او دَ دوئ نه به په هغې کښ څه کمې نشي کيدې (۱۵) دا هغه کسان دي چه نيشته دوئ لره په آخرت کښ مګر اُور او بربادبه شي هغه نيك عملونه چه دوی کړی دی په دُنيا کښ اوبے فائدے دی هغه کارونه چه دوی ئے کوی (۱۶) آيا پس هغه څوك چه وی په بشکاره دليل باندے دَطرف دَرب خپل نه او ملګری وی دَ دهٔ سره ګواه دَطرف دَهغه نه او مخکښ دَ دهٔ نه کتاب دَ موسیٰ(علیه السلام) دے پيشوا او رحمت دغه کسان ايمان لری په دے کتاب او چاچه کفر اوکړو په دے کتاب دَمختلفو ډلونه پس اُور ځائے دَ وعدے دَهغه دے پس مه کيږه ته په شك کښ دَ دهٔ نه يقيناً داحق دے دَطرف دَرب ستانه ليکن ډير خلق ايمان نه لری (۱۷) او څوك لوئے ظالم دے دَهغه چانه چه جوړوی

مقابله نشی کولے ﴿وَاَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ﴾ دا عطف دے په علم اللّٰه باندے يا عطف دے په اَنِّيْ باندے اوپه دواړه معنو کښ دليل دے چه موضوع اوخلاصه دَ قرآن توحيد دے۔

[۱۵] دے آيت کښ زورته هغه چاته چه مقصد ئے دنيا ګرځولے وی ځکه چه دا سبب دَ انکارد قرآن دے اودا آيت هغه چاته هم شامل دے چه په عمل دَ دين سره اُجرت دَ دنيا طلب کوی ﴿يُرِيْدُ﴾ اشاره ده چه دارومدارپه نيت باندے دے ﴿الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا﴾ يعنی نيك اعمال کوی دپاره دَ دے چه صحت اوعافيت اورياست ورته حاصل شی ﴿وَزِيْنَتَهَا﴾ مراد دَ دے نه وسعت دَ رزق دے اوډيروالے دَ اولاد دے ﴿نُوَفِّ اِلَيْهِمْ﴾ يعنی دغه مرادونه به ورته پوره حاصل شی يعنی اللّٰه تعالیٰ دَ دهٔ محنت دَ دهٔ دَ نيت موافق نه ضائع کوی۔

[۱۶] دايره اُخروی ده هغه کسانوته چه مخکښ آيت کښ ذکرشول ﴿وَحَبِطَ مَا صَنَعُوْا فِيْهَا﴾ ديکښ اشاره ده هغې عملونوته چه کوی ئے په نيت دَ دنيا سره يعنی نيك اعمال ﴿وَبٰطِلٌ مَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ﴾ دے کښ اشاره ده هغې عملونوته چه هغه قبيح اوناکاره دی اومفسرينو وئيلی دی چه دا ايانونه مشرکانو او منافقانو او رياکارانو او دنيا پرستوته شامل دی۔

[۱۷] په دے ايت کښ څلورمه دعوه دَ سورت ده چه هغه تسلی ده پيغمبراوتابعدارودَ هغه ته او هرکله چه مخکښ حال دَ دنيا پرستو ذکرکړو نواوس حال دَ ديندارو ذکرکوی په طريقه دَ تقابل سره۔ حاصل ئے دا دے اے پيغمبره اوتابعدارودَ هغه ستاسوخبره (يعنی مسئله دَ توحيد) په عقلی دليل سره ثابت ده اوقرآن هم دَ هغې په تائيد کښ دے چه هغه دليل وحی دے او کتاب دَ موسیٰ(علیه السلام) هم دَ هغې په تائيد کښ دے چه هغه دليل نقلی دے نوځوك چه دَ دے مسئلے نه انکارکوی نوهغه په ضد اوپه عناد کښ دے اوهغه دپاره

عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا ؕ اُولٰٓئِكَ يُعْرَضُوْنَ عَلٰى رَبِّهِمْ وَيَقُوْلُ الْاَشْهَادُ هٰٓؤُلَآءِ الَّذِيْنَ كَذَبُوْا عَلٰى رَبِّهِمْ ۚ اَلَا لَعْنَةُ اللّٰهِ عَلَى الظّٰلِمِيْنَ ۙ﴿۱۸﴾ الَّذِيْنَ يَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَيَبْغُوْنَهَا عِوَجًا ؕ وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ هُمْ كٰفِرُوْنَ ﴿۱۹﴾ اُولٰٓئِكَ لَمْ يَكُوْنُوْا مُعْجِزِيْنَ فِى الْاَرْضِ وَمَا كَانَ لَهُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ اَوْلِيَآءَ ؕ يُضٰعَفُ

په الله تعالی باندے دروغ دغه کسان پیش به کړے شی رب خپل ته او اوبه وائی گواهی ورکوونکی چه دا هغه خلق دی چه دروغ ئے وئیلی وو په رب خپل خبردار لعنت دَ الله تعالی دے په ظالمانو خلقو (۱۸) داهغه کسان دی چه منع کوی خلق دَ لارے دَ الله تعالی نه او لټوی په هغے کښ کګلیچ او دوئ دَ آخرت نه هم انکار کوونکی دی (۱۹) دغه کسان نشی بچ کیدے دَ الله تعالی دَعذاب نه په ټوله زمکه کښ او نه به وی دوئ لره سیوا دَ الله تعالی نه څوك دوستان زیاتیدے به شی

عذاب دے۔ دَ هغه دَ انکاردَ وجے نه په حق کښ شك مه کوئ ﴿بَيِّنَةٍ﴾ مراد دَ دینه بیان دَ توحید دے په دلیلونوعقلیوسره ﴿شَاهِدٌ﴾ مراد دَ دے نه قرآن پاك دے ځکه چه هغه گواه دے په مسئله دَ توحید باندے۔ ﴿اِمَامًا﴾ کتاب دَ الله تعالی ته امام په دے وجه وئیلے کیږی چه دَ هغه اقتداء اوتابعداری کول لازم دی۔ ﴿اَفَمَنْ كَانَ﴾ دَ دے جزاء محذوف ده کمن یرید الحیوة الدنیا و زینتها ولیس له فی الاخرة الاالناریا جزاء دا ده ایبقی له محل شبهة وشك ﴿اُولٰٓئِكَ﴾ اشاره ده چه من کان علی بینة نبی ﷺ اوټول صحابه دی اوضمیرَ (بِهٖ) قرآن ته راجع دے ﴿وَمَنْ يَّكْفُرْ بِهٖ﴾ دا په مقابله دَ یؤمنون کښ دے ﴿الْاَحْزَابِ﴾ دِلے دَکافرانو چه مخالفت او عناد ئے کوؤ دَ انبیاء علیهم السلام سره ۔ مِنهُ ضمیر راجع دے قرآن یا موعد ته۔

[۱۸] دے آیت کښ یره دَ عذاب اخروی ده مشرکینوته اومتعلق دے دَ ﴿لَا يُؤْمِنُوْنَ﴾ سره ﴿افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا﴾ په نسبت دَ شریك او ولد الله تعالی ته او په انکار دَرسول اوقرآن سره ﴿يُعْرَضُوْنَ عَلٰى رَبِّهِمْ﴾ عرض خودَ ټولوخلقودے لکه سورة کهف(۴۸) کښ لیکن دلته مراد عرض دے دپاره دَ شرمنده کولو ﴿الْاَشْهَادُ﴾ دغه اشهاد ذکر دی په سورة نساء (۴۱) اوسورة نحل (۸۹) اوسورة نور(۲۴) اوسورة یٰس(۶۵) اوحم سجده(۲۰) اوسورة ق(۲۱) اوسورة بقره (۱۴۳)کښ ﴿وَيَقُوْلُ الْاَشْهَادُ﴾ مراد دَ دے نه ملائیك اوپیغمبران اومؤحدین دَ دے امت اواندامونه دَ بدن دی ځکه ئے جمع ذکرکړیده ﴿كَذَبُوْا عَلٰى رَبِّهِمْ﴾ یعنی شرك ئے کوؤ اوالله تعالی ته ئے نسبت کوؤ دَ جائز کولودَ هغے۔

[۱۹] دے آیت کښ درے صفات دَ ظالمانودی ﴿يَصُدُّوْنَ﴾ اشاره ده چه دوی متعدی کافر دی ﴿سَبِيْلِ اللّٰهِ﴾ توحید او قرآن اوسنت دے ﴿وَيَبْغُوْنَهَا﴾ ضمیرسبیل ته راجع دے ځکه چه هغه مذکر اومؤنث دواړه ذکرکیږی ﴿عِوَجًا﴾ مراد دَ دے نه شکونه اچول دی په زړونودَ خلقوکښ په باره دَ توحید کښ او﴿يَبْغُوْنَهَا﴾ کښ اشاره ده چه سَبِيل الله، کښ کوږوالے نیشته لیکن ظالمان په ضد سره په هغے کښ کوږوالے جوړ وی دَ دے دپاره چه نور خلق ترینه وارئ اوداسے په سورة اعراف (۴۵) او سورة العمران (۹۹) کښ ذکر دی۔

لَهُمُ الْعَذَابُ ؕ مَا كَانُوْا يَسْتَطِيْعُوْنَ السَّمْعَ وَمَا كَانُوْا يُبْصِرُوْنَ ﴿۲۰﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ
وَضَلَّ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴿۲۱﴾ لَا جَرَمَ اَنَّهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ هُمُ الْاَخْسَرُوْنَ ﴿۲۲﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا
وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَاَخْبَتُوْٓا اِلٰى رَبِّهِمْ ۙ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۲۳﴾ مَثَلُ الْفَرِيْقَيْنِ
كَالْاَعْمٰى وَالْاَصَمِّ وَالْبَصِيْرِ وَالسَّمِيْعِ ؕ هَلْ يَسْتَوِيٰنِ مَثَلًا ؕ اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ﴿۲۴﴾ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا اِلٰى ع ۲

دَ دوئ دپاره عذاب ځکه چه دوی طاقت نه لرلو دَحق دَ اوریدلو (یعنی بدپرے لګیدلو) اونه دوئ لیدلو حق لره (۲۰) داهغه کسان دی چه تاوان کښ ئے اچولی دی ځانونه خپل او روك به شی دَ دوئ نه هغه چه دوئ څه دروغ جوړول (۲۱) خامخا یقیناً دوئ به په آخرت کښ لوئے تاوانیان وی (۲۲) یقیناً هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے اوعملونه کوی په طریقه دَپیغمبر(نیك) اوعاجزی کوی رب خپل ته دغه کسان جنت والادی دوئ په هغے کښ همیشه وی (۲۳) مثال دَ دے دواړو ډلو پشان دَ ړوند او دَکونړ دے او دَلیدونکی او دَ اوریدونکی د ے آیا برابر د ی دا دواړه په مثال کښ ؟آیا پس نصیحت نه اخلئ تاسو (۲۴) او یقیناً لیږلے وو مونږ نوح(علیه السلام)

[۲۰] دا یره دَ عذاب اُخروی ده منکرینوته ﴿مُعْجِزِيْنَ﴾ په معنیٰ لازمی سره دے یعنی بچ کیدؤنکی یا په معنیٰ متعدی سره دے عاجزکوؤنکی اللّٰه تعالیٰ لره دَ عذاب ورکولونه ﴿مِنْ اَوْلِيَآءَ﴾ دَ دوی معبودان چه دوی شفعاء کنړل چه په سورۃ یونس کښ دَ هغوی ذکرتیرشویدے ﴿يُضٰعَفُ﴾ مضاعفه دَ دے وجے نه وه چه ډیرقسمونه دَ کفر اودَ شرك په دوی کښ جمع دی یا دَ دے وجے نه چه ګمراه دی او ګمراه کوؤنکی دی۔

[۲۲،۲۱] دا ذکردَ سبب دَ عذاب دے او زورنه ده منکرینوته اوپه دویم ایت کښ یره اخروی ده۔ ﴿خَسِرُوْٓا﴾ خسران په سبب دَ شرك سره دے چه شرك سره نوراعمال خیربربادشول ﴿ضَلَّ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ﴾ مراد دَ مفترياتونه معبودان باطله دی اوضَلَّ په معنیٰ دَ غائب والی دے یا مفتریات نه مراد قصّے دَ شرك دی اوضَلَّ په معنیٰ دَ نسیان سره دے ﴿لَاجَرَمَ﴾ فراء وئیلی دی چه دا لفظ په معنیٰ دلابد اولامحالة سره دے اوپه معنیٰ دَ حقا سره هم استعمالیږی او زجاج وئیلی دی چه لادَ نفی دَ ګمان دَ خلقودے اوجَرَمَ په معنیٰ دَکسب سره دے نومعنیٰ دا شوه چه داسے نه ده لکه چه دوی ګمان کوی بلکه کسب کړودَ دوی عملونو خسران په اخرت کښ۔ اوسیبویه وئیلی دی چه لا دپاره دَ نفی دَګمان دے اوجرم په معنیٰ دَ حَق سره دے خطیب شربینی وئیلی دی چه دَ ایت (۱۸) نه تردے ایت پورے دَ لَایُؤمِنُونَ، دپاره څوالس حالات او صفات ذکرکړے شول ﴿اَخْبَتُوْٓا﴾ دَ دے په صله کښ چه الیٰ راشی نوپه معنیٰ دَ اطمینان دَ زړه سره دے اوچه لام راشی نوپه معنیٰ دَ خشوع اوخضوع سره دے نوپه دے کښ اعمال قلبیه ته اشاره ده او﴿وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ﴾ کښ اعمال دَ جوارحوته اشاره ده۔

[۲۳] روستودَ تخویف دَ منکرینونه دا زیرے اُخروی دے دپاره دَ منونکو﴿اَخْبَتُوْٓا﴾ دَ دے یومعنیٰ انابت دے، دویمه معنیٰ اطاعت، دریمه خشوع اوعاجزی، څلورمه معنیٰ اخلاص کول دی۔

[۲۴] دا هم په زیری کښ داخل دے اوپه دے ایت کښ اعمیٰ اواصَمّ مثال دَ مشرك دے اوبَصِیر اوسَمیع مثال دَ مؤحد دے او دا رد دے په هغه چا باندے چه دَکافر اومؤمن فرق نه کوی اودے عقیدے ته په دے زمانه

قَوْمِهٖٓ اِنِّیْ لَكُمْ نَذِیْرٌ مُّبِیْنٌ ﴿۲۵﴾ اَنْ لَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّا اللّٰهَ ؕ اِنِّیْٓ اَخَافُ عَلَیْكُمْ عَذَابَ یَوْمٍ اَلِیْمٍ ﴿۲۶﴾ فَقَالَ
الْمَلَاُ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖ مَا نَرٰىكَ اِلَّا بَشَرًا مِّثْلَنَا وَمَا نَرٰىكَ اتَّبَعَكَ اِلَّا الَّذِیْنَ هُمْ
اَرَاذِلُنَا بَادِیَ الرَّاْیِ ۚ وَمَا نَرٰی لَكُمْ عَلَیْنَا مِنْ فَضْلٍ بَلْ نَظُنُّكُمْ كٰذِبِیْنَ ﴿۲۷﴾ قَالَ یٰقَوْمِ اَرَءَیْتُمْ
اِنْ كُنْتُ عَلٰی بَیِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّیْ وَاٰتٰىنِیْ رَحْمَةً مِّنْ عِنْدِهٖ فَعُمِّیَتْ عَلَیْكُمْ ؕ اَنُلْزِمُكُمُوْهَا وَاَنْتُمْ لَهَا

قوم دَهغه ته (اووئیل ئیے) یقیناً ځه ستاسو دپاره یره درکوونکے یم ښکاره(۲۵) (بیان کوم) چه مه کوئ بندگی دَهیچا سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه یقیناً ځه پریږم پتاسو دَ عذاب دَ ورځے درد ناکے نه (۲۶) پس اووئیل غټانو هغه کسان چه کفر ئے کړے وو دَقوم دَهغه نه نهٔ وینو مونږه تا مگر بنده ځمونږ په شان او نه وینو مونږه تا چه تابعداری ئے کړیده ستامگر هغه کسان چه هغوی ذلیل دی په مونږ کښ په بے فکرئ سره اونه وینو مونږه تاسولره په مونږ باندے هیڅ غوره والے بلکه ګمان کوو مونږ په تاسو دروغژن (۲۷) اُووئیل نوح(علیه السلام) اے قومه ځما آیا فکر کړیدے تاسو که یم ځه په ښکاره دلیل دَطرف دَرب خپل نه او راکړے ئے دے ماته خاص رحمت (یعنی پیغمبری) دَطرف خپل نه پس پټ پاتے شوے وی ستاسو نه آیاپه زور مناوولے شومونږه دایه تاسو باندے اوحال دا دے چه تاسو دے لره

کښ سیکولرازم وئیلے شی۔

[۲۵] دَ دے نه دویم باب دے تر ایت (۱۱۱) پورے په دے کښ اول درے واقعات اوشپږمه واقعه تعلق لری دَ سورة دَ اولے دعوے سره اوځلورمه اوپنځمه واقعه تعلق لری دَ دویمے دعوے سره او اُومه واقعه دَ موسیٰ علیه السلام تعلق لری دَ دریمے دعوے سره اوپه مینځ کښ ئیے تخویف اوبشارت دے او ایت (۱۰۹) تعلق لری دَځلورمے دعوے سره۔ دا ایت (۲۵) اول دلیل نقلی دے دَ نوح علیه السلام نه دپاره دَ مسئلے دَ توحید اوپه دے کښ ذکرَ شجاعت دَ هغه دے اوذکردے دَ طریقے دَ دعوت اودارنګ ذکرَ عذاب دَ قوم دَ هغه دے دپاره دَ تخویف دنیوی او ربط دَ دے دَ مخکښ ایت سره دا دے چه دَ فریقینوپه مثال سره ذکر اوشونواوس په مقصد دَ انبیاء علیهم السلام سره دَ فریقینودَ عاقبت فرق ذکرکوی ﴿اِنِّیْ لَكُمْ﴾ په اَرسَلنَا کښ معنیٰ دَ قال پټه ده او اِنِّیْ دَ هغے مقوله ده۔ مُبِینٌ کښ اشاره ده چه نبی دَ اللّٰه تعالیٰ په حق بیانولوکښ دَ چالحاظ نه کوی اوهیڅ حق نه پټوی۔

[۲۶] ﴿اَنْ لَّا تَعْبُدُوْٓا﴾ دا بدل دے دَ اِنِّی نه مفعول دے دَ مبین دپاره اودا دعوت دَ توحید دے ﴿اَلِیْمٍ﴾ صفت دَ ﴿یَوْمٍ﴾ دے مطلب دا دے چه دَ عذاب ورځ درد ناکه وی۔ که عذاب دنیوی مراد شی اوکه عذاب اخروی اویا صفت دَ عذاب دے یعنی عذاب دردناك لیکن زیږه دهٔ باندے دَ وجے دَ نزدیکت دَ ﴿یَوْمٍ﴾ نه دے اودے ته جَر للجوار وائي ﴿اِنِّیْٓ اَخَافُ﴾ اودا خوف دَ نه منلودَ توحیدکښ دے۔

[۲۷] ﴿اَلْمَلَاُ﴾ اشرافوته وئیلے شی که شرافت دُنیوی اوکه اُخروی وی دلته شرافت دنیوی دَ مال اوجاه مراد وؤ۔ سوال: سورة اعراف (۶۰)کښ الذین کفروا نه وؤ وئیلے؟ جواب: اشاره ده په سورة اعراف کښ چه هغه ټول قوم کافروؤ اودلته دَ تکبرپه طریقه اعتراضونه دی اوهغه کارَدَ مالدارودے ځکه ئیے دلته ملاء ذکرکړل نوغټانودَ قوم دَ نوح علیه السلام دَ طرف نه ځلور اعتراضونه ذکر دی۔ اول داچه ته بشرئیے

كٰرِهُوْنَ ﴿۲۸﴾ وَيٰقَوْمِ لَآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مَالًا ؕ اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلَى اللّٰهِ وَمَآ اَنَا بِطَارِدِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ؕ
اِنَّهُمْ مُّلٰقُوْا رَبِّهِمْ وَلٰكِنِّيْٓ اَرٰىكُمْ قَوْمًا تَجْهَلُوْنَ ﴿۲۹﴾ وَيٰقَوْمِ مَنْ يَّنْصُرُنِيْ مِنَ اللّٰهِ اِنْ طَرَدْتُّهُمْ ؕ
اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ﴿۳۰﴾ وَلَآ اَقُوْلُ لَكُمْ عِنْدِيْ خَزَآئِنُ اللّٰهِ وَلَآ اَعْلَمُ الْغَيْبَ وَلَآ اَقُوْلُ اِنِّيْ مَلَكٌ وَّلَآ
اَقُوْلُ لِلَّذِيْنَ تَزْدَرِيْٓ اَعْيُنُكُمْ لَنْ يُّؤْتِيَهُمُ اللّٰهُ خَيْرًا ؕ اَللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ ۖ اِنِّيْٓ

بدکنړئ (۲۸) او اے قومه ځمانه غواړم ستاسونه په دے بیان کولو هیڅ مال نه ده بدله ځما مګر دَ الله تعالیٰ سره ده اونه یم ځه شړونکے دَهغه کسانو چه ایمان ئے راوړے دے یقیناً دوی به مخامخ کیږی دَرب خپل سره اولیکن ځه وینم تاسولره داسے قوم چه ناپوهی کوئ(۲۹) او اے قومه ځما څوك به بچ کړی ما دَعذاب دَ الله تعالیٰ نه که ځه اوشړم دوئ لره آیا پس نصیحت نه اخلئ تاسو(۳۰) اونه وایم ځه تاسوته چه زما سره اختیار دَخزانو دَ الله تعالیٰ دے اونه پوهیږم ځه په غیب باندے اونه وایم چه ځه ملك یم اونه وایم په باره دَهغے کسانو کښ چه سپك ئے ګڼړی سترګے ستاسو چه هیڅړے به ورنه کړی الله تعالیٰ دوی ته ځه خیر الله تعالیٰ ښهٔ پوهیږی په هغه ځه چه په زړونو دَ دوی کښ دی یقیناً ځه به

زمونږپه شان اودویم ستا تابعدار ذلیل خلق دی ځکه چه هغی فقیران وؤ۔ اوپه حدیث دَ هرقل کښ راغلی دی چه تابعدارد پیغمبرانواکثرغریبان خلق وی دریم دا چه ستاسو په مونږ ځه غوره والے نیشته یعنی په تاکښ صفت دَ پیغمبرئے نیشته اوځلورم دا چه ته دروغژن ئیے۔ اول دوه اعتراضونه صرف په نوح علیه السلام باندے وؤ ځکه ئیے مخاطب مفرد ذکرکړو۔ او روستودوه اعتراضونه په نوح علیه السلام سرهٔ دَ مؤمنانونه وؤ نوصیغه دَ جمع ئیے ذکرکړے ده ﴿بَادِيَ الرَّاْيِ﴾ یعنی دوی په تا باندے ایمان راوړے دے په اول نظرکښ اوسوچ اوفکرئیے نه دے کړے که فکر ئیے کړے وے نوستا تابعداری به ئیے نه وه کړے۔ اراذل ئیے دَ وجے دَ فقیرئے نه وئیل دَ وجے دَ نسب نه نه وؤځکه چه مؤمنان دَ نوح علیه السلام دَ هغه ځامن وؤ اودَ هغوی ببیانے اودَ هغوی نسبت اوچت وؤ ځکه چه الله تعالیٰ انبیاء په لوی نسب سره رالیږی۔

[۲۸] دَ ﴿بَيِّنَةٍ﴾ نه مراد ښکاره دلیلونه دَ توحید دی او ﴿رَحْمَةً﴾ نه مراد پیغمبری ده مطلب دا دے چه ما سره ښکاره دلیلونه دی اونبوت دے ځه دروغژن نه یم لیکن ځه دا په تاسوباندے په زورنه شم منالوولے۔ نودا جواب دے دَ هغوی دَ ټولو اعتراضونو ﴿فَعُمِّيَتْ﴾ او ﴿اَنُلْزِمُكُمُوْهَا﴾ ضمیرونه ئیے مفرد مؤنث ذکرکړل دَ دے وجے چه مقصد دَ ﴿بَيِّنَةٍ﴾ او ﴿رَحْمَةً﴾ یودے یا په تاویل دَ هریو سره دے۔

[۲۹] په دے آیت کښ ذکردَ اخلاص دَ نوح علیه السلام دے اوپدیکښ ترغیب دے قوم ته اوهرکله چه دَ دنیا اجرتونه مالونه وی دَ دے وجے نه ﴿مَالًا﴾ ئیے ذکرکړواودَ الله تعالیٰ بدله په ډیر قسمه ده دَ دے وجے نه ﴿اَجْرِيَ﴾ سره ئیے ذکر کړه۔ اوبیا جواب دَ قول دَ هغوی دے چه هغوی وئیل چه دا غریبان مؤمنان دَ خپل مجلس نه اوشړه نومونږبه ستا تابعداری اوکړونوجواب اوشو چه ځه دَ دوی دَ شړلوحق نه لرم ځکه چه دوی الله تعالیٰ ته مخامخ کیدونکی دی نوهسے نه چه الله تعالیٰ ته زما شکایت پیش کړی ﴿تَجْهَلُوْنَ﴾ اشاره ده چه مؤمنان سپك ګڼړل دَ جهل کاردے۔

[۳۰] دا دویم جواب دے دَ هغوی دَ قول یعنی که ځه دوی اوشړم نوما به دَ الله تعالیٰ دَ عذاب نه څوك

اِذًا لَّمِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۳۱﴾ قَالُوْا يٰنُوْحُ قَدْ جٰدَلْتَنَا فَاَكْثَرْتَ جِدَالَنَا فَاْتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ اِنْ كُنْتَ
مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿۳۲﴾ قَالَ اِنَّمَا يَاْتِيْكُمْ بِهِ اللّٰهُ اِنْ شَآءَ وَمَآ اَنْتُمْ بِمُعْجِزِيْنَ ﴿۳۳﴾ وَلَا يَنْفَعُكُمْ
نُصْحِيْٓ اِنْ اَرَدْتُّ اَنْ اَنْصَحَ لَكُمْ اِنْ كَانَ اللّٰهُ يُرِيْدُ اَنْ يُّغْوِيَكُمْ ؕ هُوَ رَبُّكُمْ ۫ وَاِلَيْهِ
تُرْجَعُوْنَ ﴿۳۴﴾ اَمْ يَقُوْلُوْنَ افْتَرٰىهُ ؕ قُلْ اِنِ افْتَرَيْتُهٗ فَعَلَيَّ اِجْرَامِيْ وَاَنَا بَرِيْٓءٌ مِّمَّا تُجْرِمُوْنَ ﴿۳۵﴾ ع ۴ و

په دغه وخت کښ خامخا دَظالمانونه یم (۳۱) اُوئیل دوی اے نوح(علیه السلام) یقیناً جګړه او کړه تاځمونږ سره پس زیاته دے کړه جګړه ځمونږ پس راوړه مونږ ته هغه شے چه یره وے ته مونږه په هغے که ئے ته دَ رشتینونه (۳۲) اوئیل نوح(علیه السلام) یقیناً راولی به تاسوته دا عذاب اللّٰه تعالیٰ که چرے اوغواړی اونه ئے تاسو بچ کیدونکی دَ هغه نه (۳۳) اوفائده نه درکوی تاسوته نصیحت ځما که ځه اوغواړم چه نصیحت کوم تاسوته خوکه اللّٰه تعالیٰ غواړی چه تاسو بے لارے کړی اللّٰه تعالیٰ ستاسو رب دے او خاص هغه ته به اوګرځولے شئ تاسو(۳٤) آیا دوئ وائی چه دَځان نه ئے جوړه کړے ده داخبره ته اُوایه که مادَځان نه جوړه کړی وی پس ځما په ذمه دے جرم کول ځما اوځه خلاص(جدا) یم دَهغے جرمونونه چه تاسوئے کوئ (۳۵) او

بچ کړی۔

[۳۱] په دے آیت کښ جوابونه دی دَ ځلورواعتراضونودَ منکرینوچه تفصیل دَ هغے په سورة انعام (۵۰) آیت کښ تیرشوے دے ﴿بِمَافِيْٓ اَنْفُسِهِمْ﴾ اشاره ده چه دوی په هغه مؤمنانوباندے دَ منافقت ګمان کوؤ لکه چه بَادِيَ الرَّاْيِ، کښ دیته اشاره ده ﴿لِمَنَ الظّٰلِمِيْنَ﴾ دارنګ ذکرپه سورة انعام (۵۲) کښ تیرشوے دے۔

[۳۲] دا طعن دے دَ منکرینودَ طرف نه په نوح(علیه السلام) باندے چه دَ هغه دَ نصیحت خبروکولوته دوی جګړه اُوئیل یعنی ته جګړمار ئے لکه اوس چه په حق پرستودا طعن لګولے کیږی چه دوی شریان اوجګړمار دی یا مراد دَ جدال نه اثبات دَ توحید اورسالت دے په دلیلونوسره اوجوابونه دَشبهاتودی اوشرینی په سراج المنیرکښ وئیلی دی چه دا طریقه دَ انبیاء علیهم السلام ده اوتقلید اوجهل کسب دَ کافرانو دے۔ اومَا تَعِدُنَآ، په ۲٦ کښ تیرشویدے۔

[۳۳] دا جواب دَ قول دَ هغوی دے چه مخکښ ایت کښ تیرشو ﴿فَاْتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ﴾ حاصل دَ جواب دا دے چه عذاب راوستل په اختیاردَ اللّٰه تعالیٰ کښ دی۔

[۳٤] مطلب دَ دے ایت دا دے لکه څنګ چه عذاب دَ اللّٰه تعالیٰ په اختیار کښ دے نو دارنګ ګمراه کول اوهدایت هم دَ اللّٰه تعالیٰ په اختیارکښ دی۔ اوهغه سبب دَ عذاب دے دَ ایت نه معلومه شوه چه انسان یوکارکوی لیکن نفع دَ هغے په اختیاردَ اللّٰه تعالیٰ کښ وی دارنګ هیڅ انسان دَ اللّٰه تعالیٰ دَ ارادے خلاف کارنشی کولے اوجزاء دَ شرط محذوف ده اصل عبارت دا دے۔ ان کان اللّٰه یرید ان یغویکم فان اردت ان انصح لکم فلاینفعکم نصحی۔

[۳۵] دے ایت کښ دوه توجیه دی اوله توجیه دا ده چه داهم مکالمه دَ نوح(علیه السلام) ده دَ قوم خپل سره په صیغه دَ غائب سره دویمه توجیه دا ده چه دا مکالمه زمونږدَ نبی(علیه السلام) ده دَ خپل قوم سره نودا په طریقه دَ

أُوْحِيَ إِلَىٰ نُوحٍ أَنَّهُ لَن يُؤْمِنَ مِن قَوْمِكَ إِلَّا مَن قَدْ آمَنَ فَلَا تَبْتَئِسْ بِمَا كَانُوا يَفْعَلُونَ ﴿٣٦﴾
وَاصْنَعِ الْفُلْكَ بِأَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا وَلَا تُخَاطِبْنِي فِي الَّذِينَ ظَلَمُوا ۚ إِنَّهُم مُّغْرَقُونَ ﴿٣٧﴾ وَيَصْنَعُ
الْفُلْكَ ۖ وَكُلَّمَا مَرَّ عَلَيْهِ مَلَأٌ مِّن قَوْمِهِ سَخِرُوا مِنْهُ ۚ قَالَ إِن تَسْخَرُوا مِنَّا فَإِنَّا نَسْخَرُ مِنكُمْ كَمَا
تَسْخَرُونَ ﴿٣٨﴾ فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ مَن يَأْتِيهِ عَذَابٌ يُخْزِيهِ وَيَحِلُّ عَلَيْهِ عَذَابٌ مُّقِيمٌ ﴿٣٩﴾ حَتَّىٰ إِذَا

وحی او کړے شوه نوح(علیه السلام) ته چه یقیناً هیڅرے ایمان نه راوړی دَ قوم ستانه مګر هغه څوك چه ایمان ئے راوړے دے پس مه خفه کیږه په هغه کارونو چه دوی ئیے کوی (۳٦) اوجوړه وه کشتئ مخامخ ځمونږ اوپه وحی ځمونږ (یعنی طریقه خودل) اومه کوه سفارش ماته په باره دَهغے کسانو کښ چه ظلم ئے کړے دے یقیناً دوئ به غرقولے شی(۳۷) اوهغه جوړوله کشتئ اوهرکله چه ورتیریدل به په هغه باندے دَ غټانو ډله دَقوم دَهغه نه نو ټوقے به ئیے کولے په هغه پورے نوهغه به وئیل که تاسو ټوقے کوئ په مونږ پورے پس مونږ به هم ټوقے اوکړو په تاسو پورے لکه چه تاسوپه مونږ پورے ټوقے کوئے (۳۸) نوزرده چه پوهه به شئ تاسو چه په چا باندے به رازی عذاب چه شرمنده به ئے کړی او رابه شی په هغه باندے عذاب همیشه (۳۹) تردے پورے چه کله

جمله معترضه سره ده ﴿إِجْرَامِيْ﴾ کسب کول دَګناه ښکاره ته اجرام وئیلے شی۔ اومضاف حذف دے یعنی ائم اجرامی ګناه دَ جرم ځما اوپدے کښ بل تقدیردا دے یعنی انتم بَرِیئُونَ عَن اِجرَامِی۔

[۳٦] دَ تفصیل دَ دعوت دَ نوح علیه السلام نه روستو تفصیل دَ عذاب ذکرکوی اودا آیت دلیل دے په دے خبره چه نوح علیه السلام خپل قوم ته چه خبرے کړے وے نوروستودَ دے وحی نه ئے کړے وے چه په دے وحی سره هغه دَ ایمان دَ خپل قوم نه نا اُمیده شو ﴿لَنْ يُّؤْمِنَ﴾ دا اخبار دَ اللّٰه تعالیٰ رشتینے دے په شان دَ سورۃ البقره (٦)۔

[۳۷] دَ دینه مخکښ دا مراد دے چه دَ دوی مخالفت دِیرسخت شونو نوح علیه السلام هغه دعا اوکړه کوم چه سورۃ نوح کښ ذکرده اوهغه دُعا قبوله شوه نوورته اُوئیلے شو ﴿وَاصْنَعِ الْفُلْكَ﴾ په دے آیت کښ تدبیرخودل دی نوح علیه السلام ته دپاره دَ نجات ﴿بِأَعْيُنِنَا﴾ دا لفظ دَ مشابهاتونه دے یعنی معنیٰ ئیے ښکاره سترګے دی اوکیفیت دَ هغے متشابه دے اوتشبیه دَ مخلوق سره نیشته او تاویل ئیے په حفاظت سره خلاف دَ مسلك دَ سلف صالحینودے او ﴿وَوَحْيِنَا﴾ په معنیٰ دَ امر دے اوطریقه دَ جوړولودَ کشتئے ﴿وَلَا تُخَاطِبْنِيْ﴾ مراد دَ دے نه منع کول دی د سفارش نه په باره دَ مشرکینو کښ ﴿مُغْرَقُوْنَ﴾ یعنی حکم کړے شویدے په اغراق دَ هغوی باندے۔

[۳۸] په دے کښ لفظ دَکان دَ استمراراودَ همیشوالی دَ معنے دپاره پټ دے یعنی کان یصنع۔ آیت کښ اشاره ده چه بے عقله خلق انبیاء علیهم السلام اوحق پرستوپورے مسخرے کوی اودَ هغوی دَکارپه رازونونه پوهیږی۔ اواشاره ده چه په مشرکانو پورے په وخت دَ عذاب اوهلاکت دَ هغوی مسخرے کول پکاردی۔ اودارنګ په اخردَ سورۃ تطفیف کښ ذکردے۔

[۳۹] اول عذاب نه مراد دنیوی عذاب دے اودَ دویم نه عذاب اُخروی مراد دے۔

جَآءَ اَمْرُنَا وَ فَارَ التَّنُّوْرُ ۙ قُلْنَا احْمِلْ فِيْهَا مِنْ كُلٍّ زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ وَاَهْلَكَ اِلَّا مَنْ سَبَقَ عَلَيْهِ الْقَوْلُ وَمَنْ اٰمَنَ ؕ وَمَاۤ اٰمَنَ مَعَهٗۤ اِلَّا قَلِيْلٌ ۝۴۰ وَ قَالَ ارْكَبُوْا فِيْهَا بِسْمِ اللّٰهِ مَجْرٖىهَا وَمُرْسٰىهَا ؕ اِنَّ رَبِّيْ لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝۴۱ وَهِيَ تَجْرِيْ بِهِمْ فِيْ مَوْجٍ كَالْجِبَالِ ۫ وَنَادٰى نُوْحُ ابْنَهٗ وَكَانَ فِيْ مَعْزِلٍ يّٰبُنَيَّ ارْكَبْ مَّعَنَا وَلَا تَكُنْ مَّعَ الْكٰفِرِيْنَ ۝۴۲ قَالَ سَاٰوِيْۤ اِلٰى جَبَلٍ يَّعْصِمُنِيْ مِنَ الْمَآءِ ؕ قَالَ لَا عَاصِمَ الْيَوْمَ

راغے حکم زمونږ (په عذاب سره) او را اوخوټکیدلو تنور اُوئیل مونږ سواره کړه په کشتئ کښ دَهر ځیز نه جوړے (یعنی) دوه ځیزونه او کورنئ خپله غیرډَهغه چانه چه مخکښے شویده په هغه باندے فیصله دَعذاب اوهغه څوك چه ایمان ئے راوړے دے او ایمان نه راوړی په هغه باندے مګر لږ کسان(۴۰) اوفرمائیل اللّٰه تعالیٰ سواره شئ په کشتئ کښ په امداد دَ نوم دَ اللّٰه تعالیٰ سره روانیدل دَهغے او اودریدل دَهغے دی یقیناً رب زما بخنه کوونکے رحم کوونکے دے (۴۱) او داکشتئ روانه ده په دوئ باندے په داسے چپو کښ چه دَغرونو په شان وے او آواز اوکړو نوح(علیه السلام) خپل ځوئے ته او هغه وو دَکشتئ نه په یو ډه کښ چه اے ځویه سورشه زمونږ سره اومه کیږه دَکافرانو ملګرے (۴۲) اُوئیل هغه پناهی به اونیسم غرته چه بچ به کړی مالره دَ دے اوبونه اُوئیل نوح(علیه السلام) نیشته بچ کوونکے نن

[۴۰] ﴿حَتّٰۤى﴾ ابتدائیه دے ﴿التَّنُّوْرُ﴾ دَ دے نه مراد عام تنور دے یا خاص تنور دَکور دَ نوح(علیه السلام) دے یا مراد دَ دے نه مخ دَ زمکے دے یعنی چه په تنور یا په مخ دَ زمکه باندے اوبه را اوځی اوجوش اُوهی اوبعض علماء وائی چه دا کنایه ده دَ غضب الٰهی نه ﴿اِلَّا مَنْ سَبَقَ﴾ دیکښ اشاره ده یوځوئے دَ نوح(علیه السلام) اوښځے دَ هغه ته اوسبقیت نه مراد سبقیت په تقدیر کښ دے یا په (۳۷) کښ دے ﴿زَوْجَيْنِ﴾ هغه دوه ځیزونه چه یوبل ته محتاج وی اوجوړه وی هغوی ته زوجان وئیلے کیږی ﴿اِلَّا قَلِيْلٌ﴾ پدیکښ ډیر اقوال دی ادنیٰ دَ هغے شپږ کسان دی بغیرد نوح(علیه السلام) اودَ مؤمنے بی بی دَ هغه نه اواعلیٰ اتیاکسان دی۔

[۴۱] دا امردَاللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه نوح(علیه السلام) ته دے یا دَ نوح(علیه السلام) دَ طرف نه قوم ته دے، اوپه دے ایت کښ ذکردَ سوریدلودَ وخت دے اودَ هغے ادب شرعی ذکرکوی ﴿بِسْمِ اللّٰهِ﴾ متعلق دے په ارکبواپورے یا په امداد مقررپورے یا په ﴿مَجْرٖىهَا﴾ پورے۔

[۴۲] وهی تجری دَ دے نه تقدیرد عبارت دا دے چه دوی سواره شول په کشتئے کښ په بسم اللّٰه سره نوکشتئے روانه شو ﴿وَنَادٰى نُوْحُ ابْنَهٗ﴾ په دے کښ اوله توجیه دا ده چه نوح(علیه السلام) ته دَ ځوے په کفرباندے علم نه وؤځکه دا آوازئے ورکړواو ﴿مَعْزِلٍ﴾ نه مراد دا دے چه دَ کشتئی نه په یو ډه وؤ۔ دویمه توجیه دا ده چه عالم وؤدَ هغه په کفرباندے لیکن دعوت ئے ورکړودَ بچ کیدلو دَکفرنه او ﴿اِرْكَبْ﴾ معنیٰ دا ده چه ایمان راوړه سورشه کشتئے کښ لکه چه اُوئیلے شی مونځ اوکړه یعنی پس دَ اودس کولونه مونځ اوکړه او ﴿مَعْزِلٍ﴾ نه مراد دا دے چه دَ هغه دَ دین نه په یو ډه وؤ۔ اوله توجیه غوره ده۔

مِنْ اَمْرِ اللّٰهِ اِلَّا مَنْ رَّحِمَ ۚ وَحَالَ بَيْنَهُمَا الْمَوْجُ فَكَانَ مِنَ الْمُغْرَقِيْنَ ﴿۴۳﴾ وَقِيْلَ يٰٓاَرْضُ ابْلَعِيْ
مَآءَكِ وَيٰسَمَآءُ اَقْلِعِيْ وَغِيْضَ الْمَآءُ وَقُضِيَ الْاَمْرُ وَاسْتَوَتْ عَلَى الْجُوْدِيِّ وَقِيْلَ بُعْدًا لِّلْقَوْمِ
الظّٰلِمِيْنَ ﴿۴۴﴾ وَنَادٰى نُوْحٌ رَّبَّهٗ فَقَالَ رَبِّ اِنَّ ابْنِيْ مِنْ اَهْلِيْ وَاِنَّ وَعْدَكَ الْحَقُّ وَاَنْتَ اَحْكَمُ
الْحٰكِمِيْنَ ﴿۴۵﴾ قَالَ يٰنُوْحُ اِنَّهٗ لَيْسَ مِنْ اَهْلِكَ ۚ اِنَّهٗ عَمَلٌ غَيْرُ صَالِحٍ ۫ فَلَا تَسْـَٔلْنِ مَا لَيْسَ لَكَ
بِهٖ عِلْمٌ ۭ اِنِّيْٓ اَعِظُكَ اَنْ تَكُوْنَ مِنَ الْجٰهِلِيْنَ ﴿۴۶﴾ قَالَ رَبِّ اِنِّيْٓ اَعُوْذُ بِكَ اَنْ اَسْـَٔلَكَ مَا لَيْسَ لِيْ

دَعذاب دَ اللّٰه تعالیٰ نه مګر هغه ذات چه رحم کوی (یعنی اللّٰه تعالیٰ) او راغله دَ دوئ په مینځ کښ چپه نو شودے دَغرق شوؤنه (٤٣) او اُوئیلے شو اے زمکے (واپس) تیرے کړه خپلے اوبه او اے آسمانه بندے کړه اوبه اوکمے شوے اوبه اوفیصله اوکړیشوه دَمعاملے دَ دوئ او برابر اودریدله کشتئ په جودی غرباندے او اُوئیلے شو تباهی ده قوم ظالمانولره (٤٤) اوپه عاجزئ آواز اوکړو نوح(علیه السلام) خپل رب ته اُوئیل ئے اے ربه ځما یقیناً ځوئے ځما دَ کورنئ ځمانه دے او یقیناً ستا وعده حقه ده اوته ښه فیصله کوونکے ئیے دَټولو فیصله کوونکونه (٤٥) اوفرمائیل اللّٰه تعالیٰ اے نوح(علیه السلام) یقیناً دے ستا دَ کورنئ نه نه دے ځکه چه دے داسے عمل والا دے چه نیك نه دے پس دُعامه غواړه زمانه دَهغه چاباره کښ چه نیشته تالره دَهغه (دَ ایمان) په باره کښ یقین ځه نصیحت کوم تالره چه نشے ته دَ ناپوهانو دَ ډلے نه (٤٦) اُوئیل دهٔ اے ربه ځما یقیناً ځه پناهی غواړم په تاسره چه دُعا اوغواړم ستانه دَهغه چاپه باره کښ چه نیشته مالره

[٤٣] پدیکښ درے توجیهات دی اوله توجیه دا ده چه دَ مَنْ رَّحِمَ نه مراد رحم دے او هغه اللّٰه تعالیٰ دے دویمه داچه عاصم په معنیٰ دَ معصوم دے لکه دافق په معنیٰ دَ مدفوق دریمه توجیه دا ده چه اِلَّا استثناء منقطع ده په معنیٰ دَ لکن دے۔

[٤٤] ﴿وَغِيْضَ﴾ کمے شوے پدے وجے سره چه اوبه دَ زمکے اوچے شوے صرف دَ اسمان اوبه پاتے شوے۔ ﴿الْجُوْدِيِّ﴾ دا یو غردے په کوهستان اراراط کښ دَ موصل ښارسره نزدے دے په ورځ دَ عاشوراء نجات حاصل شو ﴿وَقِيْلَ﴾ دا آوازدَ هرطرف نه اوشو اودَ ملائکودَ جانب نه په عموم سره اوشوځکه قِیل اُوئیلے شودَ عموم دپاره۔

[٤٥] ﴿وَنَادٰى﴾ نداء په معنیٰ دَ دعا دَ عاجزئے دے ﴿اِنَّ ابْنِيْ مِنْ اَهْلِيْ﴾ اشاره ده چه تا ماسره وعده کړے ده دَ نجات دَ اهل په (٤٠)کښ ﴿وَاَنْتَ اَحْكَمُ﴾ اشاره ده چه په دے کښ په اللّٰه تعالیٰ باندے اعتراض کول نیشته صحیح دا ده چه نوح علیه السلام دَ ځوئے په کفرباندے یقین نه لرلوګمان ئیے دا وؤ چه دے مؤمن دے په طریقه دَ منافقت عملی سره اودَ هغه دَ بعضِ عملونوتوجیه به ئیے احسن تاویل سره کوله په خپل اجتهاد سره ځکه دا دُعائیے اوکړله۔

[٤٦] دے ایت کښ دلیل دے چه صرف نسب فائده نه ورکوی هرکله چه عقیده اوعمل مخالف وی دَ شرع نه ﴿اِنَّهٗ لَيْسَ مِنْ اَهْلِكَ﴾ دَ ابن عباس اومجاهد وغیره نه روایت دے چه هغه ځوئے ئیے حقیقی وؤدَ نوح علیه السلام په دلیل دَ دے قول سره چه یا بُنَیَّ اوانَّ ابنی اودَ مجاز هیڅ وجه نیشته اومراد دَ اهلك نه هغه اهل

بِهٖ عِلْمٌ ؕ وَ اِلَّا تَغْفِرْ لِیْ وَ تَرْحَمْنِیْۤ اَكُنْ مِّنَ الْخٰسِرِیْنَ ﴿۴۷﴾ قِیْلَ یٰنُوْحُ اهْبِطْ بِسَلٰمٍ مِّنَّا وَ بَرَكٰتٍ
عَلَیْكَ وَ عَلٰۤى اُمَمٍ مِّمَّنْ مَّعَكَ ؕ وَ اُمَمٌ سَنُمَتِّعُهُمْ ثُمَّ یَمَسُّهُمْ مِّنَّا عَذَابٌ اَلِیْمٌ ﴿۴۸﴾ تِلْكَ مِنْ اَنْۢبَآءِ
الْغَیْبِ نُوْحِیْهَاۤ اِلَیْكَ ۚ مَا كُنْتَ تَعْلَمُهَاۤ اَنْتَ وَ لَا قَوْمُكَ مِنْ قَبْلِ هٰذَا ؕ فَاصْبِرْ ؕ اِنَّ الْعَاقِبَةَ

دَ هغه په ایمان باندے هیڅ یقین او که بخنه اونکړے ماته اورحم اونکړے په ماباندے نوځه به شم دَ تاوان کوونکو نه (٤٧) اُوئیلے شو اے نوحه(علیه السلام)کوزشه سره دَسلامتیانه (پتا باندے) زمونږ دَطرف نه اوبرکتونه (زمونږ دَطرف نه) په تاباندے اوپه ډیر اُمتونو باندے چه پیدا کیږی به دَهغه چانه چه ستاسره دی اونور ډیر اُمتونه به وی چه مزے دَ دُنیابه ورکړو بیابه پیوست شی په دوئ پورے زمونږ دَ طرف نه عذاب درد ناك (٤٨) داچه (بیان شول) بعضِ دَ خبرونو دَغیب نه دی چه وحی کوو مونږ دَهغے تاته نه وے پوهه ته په هغے باندے اونه ستا قوم دَ دے نه پخواپس صبر کوه یقیناً ښه انجام

دے چه وعده دَ نجات ئے شوے ده یا مراد دا چه نسبت دَ ده تا ته لائق نه دے ځکه چه ﴿اِنَّهٗ عَمَلٌ غَیْرُ صَالِحٍ﴾ اوچاچه دَ مجاهد اوحسن نه نقل کړیدے چه دے ولد الزنا وؤنوپه دے قول کښ دَ انبیاء علیهم السلام توهین دے اودَ دے قول صحیح سند هم نیشته اوپه دے باندے ابن کثیر اوامام رازی اوسراج المنیرسخت ردکړے دے۔ اوپدے ایت کښ بیان دَ ادب دَ سوال اودَ دُعا دے دپاره دَ دے چه دَ جاهلانودَ طریقے نه بچاؤ راشی ﴿اِنَّهٗ عَمَلٌ غَیْرُ صَالِحٍ﴾ مضاف حذف دے یعنی ذوعمل غیرصالح اوانه ضمیر دُعا دَ نوح(علیه السلام) ته راجع کول غلط دی ﴿فَلَا تَسْـَٔلْنِ﴾ دا ادب دَ دُعا دے په راتلونکی وخت کښ ﴿مَا لَیْسَ لَكَ بِهٖ عِلْمٌ﴾ مراد دا دے چه دَ چاپه ایمان کښ ستاشك وی نودَ هغوی دَ نجات په باره کښ سوال مکوه ﴿اِنِّیْۤ اَعِظُكَ﴾ دلته وعظ نه مراد بچ کول دی زورنه مراد نه ده۔ بعضِ اهل تفسیرو (لکه کشاف او تفهیم القرآن) چه دَ دے ایت په تشریح کښ لیکلی دی چه نوح(علیه السلام) دَ جهل کارکړے وؤ نودا قول دَ نبی بے ادبی اوګستاخی ده اللّٰه تعالیٰ دے مونږ دَ داسے عمل نه بچ اوساتی۔

[٤٧] په دے ایت کښ دا قول ﴿وَاِلَّا تَغْفِرْلِیْ وَتَرْحَمْنِیْۤ﴾ عبدیت اوعجزدَ پیغمبردے دا دلیل دَ هغه په ګناه کولوکښ نشی کیدلے اودا دُعا پشان دَ دُعا دَ ادم(علیه السلام) ده چه صرف عبدیت دے په ګناه باندے دلیل نه دے اودا خطیب شریبنی لیکلی دی۔

[٤٨] په دے آیت کښ اول بشارت دے نوح(علیه السلام) ته په سلامتیا اوبرکاتوسره سلامتیا دَ عذاب او مصیبتونونه اوبرکات دنیویه نباتات اووسعت دَ رزق ته اشاره ده اوبرکات اخرویه نشر او اشاعت دَ دین ته اشاره ده۔ دویم بشارت دا دے چه دَ هغه په اولاد کښ به هم نیکان خلق پیداکیږی۔ دریم اشاره ده چه دُنیا کښ به دَ نوح(علیه السلام) اولاد اونسل وی۔ څلورم دلیل دے چه پیغمبرپه سلامتیا اوبرکاتوکښ اللّٰه تعالیٰ ته محتاج دے پنځم اشاره ده دوه فریقودَ انسانانوته اوسلام اوبرکات ټولو مؤمنانو ته شامل دی او متاع اوعذاب ټولو کافرانو ته شامل دی۔

لِلْمُتَّقِيْنَ ﴿۴۹﴾ وَاِلٰى عَادٍ اَخَاهُمْ هُوْدًا ؕ قَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ؕ اِنْ اَنْتُمْ اِلَّا
مُفْتَرُوْنَ ﴿۵۰﴾ يٰقَوْمِ لَاۤ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ اَجْرًا ؕ اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلَى الَّذِيْ فَطَرَنِيْ ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۵۱﴾ وَيٰقَوْمِ
اسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوْبُوْۤا اِلَيْهِ يُرْسِلِ السَّمَآءَ عَلَيْكُمْ مِّدْرَارًا وَّيَزِدْكُمْ قُوَّةً اِلٰى قُوَّتِكُمْ وَلَا
تَتَوَلَّوْا مُجْرِمِيْنَ ﴿۵۲﴾ قَالُوْا يٰهُوْدُ مَا جِئْتَنَا بِبَيِّنَةٍ وَّمَا نَحْنُ بِتَارِكِيْۤ اٰلِهَتِنَا عَنْ قَوْلِكَ وَمَا نَحْنُ لَكَ

دپارہ دَمتقیانو دے (۴۹) (اولیګلے وو مونږ) عادیانوته رور دَهغوی هود(علیه السلام) اُوئیل دهٔ اے ځما قومه بندګی کوئ خاص دَ اللّٰه تعالیٰ نیشته تاسو لره هیڅ حاجت پوره کوونکے سیوا دَهغه نه نهٔ ئے تاسو مګر دروغ جوړوئ(۵۰) اے ځما قومه ځه نه غواړم ستاسونه په دے باندے هیڅ بدله نه ده بدله ځما مګر په هغه ذات باندے ده چه ځه ئے پیداکړے یم اے پس دَعقل نه ولے کارنه اخلئ(۵۱) او اے زما قومه بخنه غواړئ دَرب خپل نه بیا توبه اوباسئ هغه ته رالیګی به باران په تاسو باندے دِیر دَضرورت برابر اوزیاتی به کړی تاسو لره طاقت دَطاقت ستاسو سره اومخ مه ګرځوئ جرم کوونکی (۵۲) اُوئیل دوئ اے هود(علیه السلام) تانه دے راوړے مونږ ته ځه ښکاره دلیل اونه یومونږ پریخودونکی خپل مددګاران (معبودان) ستا دَوینا دَوجے نه اونه یومونږ ستاپه خبره

[۴۹] دے آیت کښ دلیل دَ صدق دَ محمد رسول اللّٰه ﷺ دے اوتسلی ده هغه ته ﴿اَنْۢبَآءِ الْغَيْبِ﴾ هغه خبرونه چه غائب وؤدَ علم دَ نبی ﷺ اودَ مخاطبینومشرکانونه اودا روستوجمله ﴿مَا كُنْتَ تَعْلَمُهَاۤ﴾ دَ دے تفسیردے ﴿قَوْمُكَ﴾ کښ اشاره ده چه یهود اونصاریٰ ته خو دا قصه معلوم وه لیکن امیین عرب دَ دے نه ناخبره وؤ ﴿اِنَّ الْعَاقِبَةَ﴾ یعنی نوح علیه السلام اودَ هغه مؤمنان دَ تقویٰ په وجے سره دَ عذاب نه بچ شول اوکامیاب شول نوراتلونکوخلقودپاره هم داسے حکم دے۔

[۵۰] دا دویم دلیل نقلی دے په اثبات دَ توحید باندے دَ هود علیه السلام نه اوذکرد شجاعت دَ هغه دے په بیان دَ مسئله کښ اوذکرد عذاب دَ قوم دَ هغه دے دپاره تخویف دنیوی ﴿اِنْ اَنْتُمْ اِلَّا مُفْتَرُوْنَ﴾ هرمشرك په اللّٰه تعالیٰ باندے افتراء کوونکے دے۔ اودارنګ دَ شرك دَ اثبات دپاره دروغ قصّے جوړوی۔ دَ ایت (۵۰) نه په اول درے اياتونوکښ طریقه دَ دعوت ده بیا دوه اياتونوکښ مخالفت دَ قوم دَ هغه ذکردے بیا څلورو اياتونوکښ شجاعت دَ هغه اوتخویف ذکردے په اخری درے ایتونوکښ نجات دَ مؤمنانواوبیا ذکرد اسبابودَ عذاب اوپه اخرکښ عذاب دنیوی اواُخروی بیان شو۔

[۵۱] دا بیان دَ اخلاص دے دپاره دَ ترغیب ځکه چه طمع دار دَ دنیا مسئله دَ حق پوره اوپه اخلاص سره نشی رسولے۔

[۵۲] په دے ایت کښ دعوت دے توحید ته په استغفاراوتوبه سره اوترغیب دے په ذکرد دوه نعمتونو دنیویه سره فرق دَ استغفاراوتوبے دَ دے سورة دَ (۳) ایت په تشریح کښ بیان شویدے۔ اوپدے ایت کښ دَ استغفار اوتوبے دوه دنیوی فائدے ذکر کړیدی اودارنګ سورت نوح (۱۰،۱۱) کښ هم ذکردی ﴿يُرْسِلِ السَّمَآءَ﴾ دا خلق زمیندار وؤبارانونوته ئے دِیرضرورت وؤدارنګ یوقول کښ راغلی دی چه دَ دوی نه درے کاله باران بند شوے وؤ ﴿وَيَزِدْكُمْ قُوَّةً اِلٰى قُوَّتِكُمْ﴾ قوت دَ اولاد اودَ مال مراد دے ځکه چه یوروایت

بِمُؤْمِنِيْنَ ﴿۵۳﴾ اِنْ نَّقُوْلُ اِلَّا اعْتَرٰىكَ بَعْضُ اٰلِهَتِنَا بِسُوْٓءٍ ؕ قَالَ اِنِّيْٓ اُشْهِدُ اللّٰهَ وَاشْهَدُوْٓا اَنِّيْ بَرِيْٓءٌ
مِّمَّا تُشْرِكُوْنَ ﴿۵۴﴾ مِنْ دُوْنِهٖ فَكِيْدُوْنِيْ جَمِيْعًا ثُمَّ لَا تُنْظِرُوْنِ ﴿۵۵﴾ اِنِّيْ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللّٰهِ رَبِّيْ وَرَبِّكُمْ ؕ مَا
مِنْ دَآبَّةٍ اِلَّا هُوَ اٰخِذٌ بِنَاصِيَتِهَا ؕ اِنَّ رَبِّيْ عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۵۶﴾ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَقَدْ اَبْلَغْتُكُمْ مَّآ
اُرْسِلْتُ بِهٖٓ اِلَيْكُمْ ؕ وَيَسْتَخْلِفُ رَبِّيْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ ۚ وَلَا تَضُرُّوْنَهٗ شَيْئًا ؕ اِنَّ رَبِّيْ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ

باور کوونکی (۵۳) مونږ نه وایو مګر داخبره چه رسولے دے تاته بعض مددګارانو زمونږ تکلیف (مرض دَمازغو) اُوئیل دهٔ یقیناً ځه ګواه کوم اللّٰه تعالیٰ لره اوتاسو هم ګواه شئ چه یقیناً ځه ویزاره یم دَهغه چانه چه تاسوئے شریك کوئ (۵٤) سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه پس چل جوړ کړئ ماته ټول بیا ماله مهلت مه راکوئ (۵۵) یقیناً ماځان سپارلے دے په اللّٰه تعالیٰ باندے چه رب ځما او رب ستاسو دے نیشته هیڅ زنده سر مګر هغه اللّٰه تعالیٰ نیوونکے دے دَ ټیکلی (ویخته دَ تندی) دَهغے یقیناً رب زما په برابر لار باندے دے (۵٦) پس که تاسو مخ ګرځوئ (پس په ما باندے ګناه نیشته) ځکه چه رَسولے دی ماتاسوته هغه پیغامونه چه ځه رالیګلے شوے یم په هغے باندے تاسوته اورابه ولی روستو رب زما بل قوم ستاسونه سیوا او ضرر نه شئ ورکولے هغه ته هیڅ یقیناً رب ځما په هرشیز باندے

کښ راغلی دی چه درے کاله دَ دوی زنانه شنډے شوے وے ﴿مُجْرِمِيْنَ﴾ یعنی ځما دَ دعوت نه مخ ګرځول مستلزم دی مجرم کیدلولره۔

[۵۳] دے ایت کښ ذکردَ عناد دَ هغه قوم دے په درے طریقوسره اول داچه سره دَوجود دَبیّنه نه چه هغوی انکارکوؤپه عناد سره ځکه چه هرنبی ته اللّٰه تعالیٰ بیّنة ورکړیوه اودویمه طریقه داچه په شرك باندے ئے اصرارکوؤپه دے قول سره﴿وَمَانَحْنُ بِتَارِكِيْ﴾دریمه طریقه دا چه﴿وَمَانَحْنُ﴾ په دے کښ ئے نفی دَ ایمان په راتلونکے زمانه کښ اوکړه دپاره دَ رد دَ طمع دَ هودعليه السلام۔

[۵٤] دا هم بیان دَ عناد اودَ جهل دَ هغوی دے اووجه ده دَ ایمان نه راوړلویعنی ستا دماغ خراب شویدی اودا دَ شرك کلمه ده چه نسبت دَ ضرر ورکولوغیراللّٰه ته عقیدهٔ کوی۔ اودا طریقه دَ جاهلانواوس هم شته چه مؤحدته وائي چه تاته زمونږاولیاء (معبودانو) ټکره رسولے ده اوستا دماغ ئے خراب کړیدی ﴿قَالَ اِنِّيْٓ اُشْهِدُ اللّٰهَ﴾دا بیان دشجاعت دَ هودعليه السلام دے اواستقامت دے په توحید باندے ﴿بَرِيْٓءٌ﴾ براءة عام دے عبادت نه کول اودَ هغوی (معبودانو) دَ طرف نه دَ ضررنه رسیدلوعقیده ساتل۔

[۵۵] په دے کښ هم بیان دَ شجاعت اودَ استقامت دَ هغه دے ﴿مِنْ دُوْنِهٖ﴾ ئے جدا راوړے دے دپاره دَ تاکید یعنی شریکان خواللّٰه تعالیٰ لره نشی کیدلے سره دَ دے نه چه اللّٰه تعالیٰ نه کوز اوعاجزدی نوځه رنګه به شریکان شی﴿فَكِيْدُوْنِيْ﴾ داپشان دَ قول دَ نوحعليه السلام په سورة یونس (۷۱) کښ دے۔

[۵٦] دا دلیل دَ ماقبل دے یعنی توکل په اللّٰه تعالیٰ باندے مستلزم دے دپاره دَ برائت دَ هرشرك نه دا دویمه جمله علت دے دپاره دَ توکل کولوپه اللّٰه تعالیٰ باندے اودَ دے مقصد دا دے چه هرځه دَ اللّٰه تعالیٰ په قبضه قدرت اوتصرف کښ دی نودَ اللّٰه تعالیٰ دَ ارادے نه بغیرهغوی هیڅ ضررنشی در رسولے﴿بِنَاصِيَتِهَا﴾ ناصیة: هغه ویخته دی چه دَ سرپه مخکښے حِصّه باندے وی اودَ عرب په محاوره کښ ناصیه نیول کنایه ده دَ قبض

حَفِيْظٌ ﴿۵۷﴾ وَلَمَّا جَآءَ اَمْرُنَا نَجَّيْنَا هُوْدًا وَّالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا ۚ وَنَجَّيْنٰهُمْ مِّنْ عَذَابٍ
غَلِيْظٍ ﴿۵۸﴾ وَتِلْكَ عَادٌ ۘ جَحَدُوْا بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ وَعَصَوْا رُسُلَهٗ وَاتَّبَعُوْٓا اَمْرَ كُلِّ جَبَّارٍ عَنِيْدٍ ﴿۵۹﴾ وَاُتْبِعُوْا
فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا لَعْنَةً وَّيَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۭ اَلَآ اِنَّ عَادًا كَفَرُوْا رَبَّهُمْ ۭ اَلَا بُعْدًا لِّعَادٍ قَوْمِ هُوْدٍ ﴿۶۰﴾ ع ۵

ساتنه کوونکے دے(۵۷) اوهرکله چه راغے حکم دعذاب زمونږ بچ کړومونږ هود(علیه السلام) اوهغه کسانو لره چه ایمان ئے راوړے وو دَ هغه سره په رحمت ځمونږ دَطرف نه اوبچ کړل مونږ دوئ لره دَعذاب سخت نه (۵۸) اودغه عادیان وو چه انکار ئے کړے وو دَ آیتونو دَرب خپل نه اونافرمانی ئے کړے وه دَرسولانو دَهغه نه اوتابعداری ئے کړے وه دَطریقے دَهرسرکش عنادی(۵۹) اوپرله پسے اولیګلے شوپه دوئ باندے په دے دُنیاکښ لعنت اوپه ورځ دَقیامت هم خبرشئ یقیناً عادیانو انکارکړے وو دَرب خپل نه خبرشئ تباهی ده عادیانولره چه دَهود(علیه السلام) قوم وو(۶۰)

کولواودَ ذلیل کولونه۔ دَ دریمے جملے یومطلب دا دے چه اللّٰه تعالیٰ قائِم دے په عدل اوانصاف(مراد دَ صراط مستقیم نه عدل دے) دَ دے وجے نه اللّٰه تعالیٰ مؤحدینولره دَکیدونودَ مشرکانونه محفوظ ساتی۔ دویم مطلب دا دے چه اللّٰه تعالیٰ هدایت کوی نیغے لارے ته (دَ توحید لار) علی په معنیٰ دَ الیٰ دے دَ دے وجے نه هغه مؤحد لره دَ ذلت نه بچ ساتی۔

[۵۷] په دے آیت کښ بیان دَ دفع دَ عذرد قوم دے چه دا اونه وائي چه مونږدَ حق نه خبرنه وؤاو ﴿فَاِنْ تَوَلَّوْا﴾ جزاپته ده یعنی ځه ملامته نه یم ځکه چه ما په تاسوباندے حجت قائِم کړیدے ﴿فَقَدْ اَبْلَغْتُكُمْ﴾ علت دَ جزا دے ﴿وَيَسْتَخْلِفُ﴾ دا معطوف دے په پټ لفظ باندے یعنی فیهلککم (اللّٰه به تاسو هلاك کړی) اودا تخویف دنیوی دے ﴿حَفِيْظٌ﴾ یعنی ستاسودَ هر عمل که لوئے وی اوکه وړوکے وی حفاظت کوؤنکے دے په علم او قدرت خپل سره۔

[۵۸] دَ ﴿اَمْرُنَا﴾ نه مراد عذاب دَ سختے سیلئے دے چه په سورة حم سجده (۱۶) اوالحاقه (۶) کښ ذکرده او ﴿نَجَّيْنَا﴾ کښ اشاره ده چه په وخت دَ عذاب کښ اول رسول اومؤمنانوته نجات ورکیدیشی روستوپه مکذبینو باندے عذاب راځی اوپه لفظ دَ رَحمَةً سره اشاره ده چه سبب دَ نجات، رحمة خاصه دَ اللّٰه تعالیٰ دے۔

فائده: دے آیت کښ دوه کرته نجات ذکر دے دَ اول نجات نه مراد نجات دے دَ قوم دَ مظالمو اومکرونونه اودَ دویم نجات نه مراد نجات دَ عذاب دُنیوی دے یا اول نجات دَ عذاب دُنیوی نه اودویم نجات دَ عذاب اخروی نه دے۔

[۵۹] ﴿تِلْكَ﴾ عاد په تاویل دَ قبیلے سره مؤنث دے اواشاره دَ تِلْكَ دَ دے وجے نه ده چه دا واقعه دَ اوریدونکوپه ذهنونو کښ مشهوره شویوه اودے آیت کښ درے اسباب دَ عذاب ذکرکړے شوی دی اول انکارد آیاتونودَ توحید نه دویم مخالفت دَ رسول چه مستلزم دے مخالفت د تولورسولانو لره۔ دریم تابعداری اوتقلید دَ جَبَّار چه دَ هیچا قانون په ځان باندے نه منی لکه دَ هری کافر ﴿عَنِيْدٍ﴾ دَ دلیل اودَ قانون شرعی سره عناد اوضد کوؤنکے لکه عنادی مشرك۔

[۶۰] په دے آیت کښ ترقی دَ عذاب دنیوی اواخروی ذکرشوه یعنی روستودَ عذاب دَ سختے سیلئے نه

وَاِلٰى ثَمُوْدَ اَخَاهُمْ صٰلِحًا ؕ قَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ؕ هُوَ اَنْشَاَكُمْ مِّنَ
الْاَرْضِ وَاسْتَعْمَرَكُمْ فِيْهَا فَاسْتَغْفِرُوْهُ ثُمَّ تُوْبُوْٓا اِلَيْهِ ؕ اِنَّ رَبِّيْ قَرِيْبٌ مُّجِيْبٌ ﴿۶۱﴾ قَالُوْا يٰصٰلِحُ قَدْ
كُنْتَ فِيْنَا مَرْجُوًّا قَبْلَ هٰذَآ اَتَنْهٰنَآ اَنْ نَّعْبُدَ مَا يَعْبُدُ اٰبَآؤُنَا ؕ وَاِنَّنَا لَفِيْ شَكٍّ مِّمَّا تَدْعُوْنَآ
اِلَيْهِ مُرِيْبٍ ﴿۶۲﴾ قَالَ يٰقَوْمِ اَرَءَيْتُمْ اِنْ كُنْتُ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّيْ وَاٰتٰىنِيْ مِنْهُ رَحْمَةً فَمَنْ

(اولیګلے وومونږ) ثمودیانوته رور دَهغوی صالح(علیه السلام) دهٔ اُوئیل اے ځما قومه بندګی کوئ خاص دَاللّٰه تعالیٰ نیشته تاسولره حاجت پوره کوونکے سیوا دَهغه نه هغه پیداکړی ئے تاسو دَزمکے نه او آباد کړی ئے تاسو په دے زمکه کښ پس بخنه غواړئ دَهغه نه بیا توبے اوباسئ هغه ته یقیناً رب زما نزدے دے قبلوونکے دے (٦١) اُوئیل دوئ اے صالح(علیه السلام) یقیناً ته وے په مونږ کښ امیدلرلے شوے(ستانه دَخیر) پخوا دَ دے نه آیاته مونږ منع کوے دَ دے نه چه بندګی اوکړو دَهغه چاچه بندګی کوله زمونږ مشرانو او یقیناً مونږ په شك کښ یودَهغه خبرے نه چه ته بلے مونږ لره هغے ته کلك شك(٦٢) اُوئیل دهٔ اے زماقومه خبر راکړئ ماته که چرے یم ځه په ښکاره دلیل باندے دَطرف دَرب خپل نه اوراکړے وی ماته دَطرف خپل نه رحمت(نبوت) پس څوك به

لعنت دَ اللّٰه تعالیٰ اودَ ملائکو اومؤمنانودَ طرف نه په دے پسے همیشه کړلے شواودَ هغے سبب ئے ذکرکړوچه ﴿كَفَرُوْا رَبَّهُمْ﴾﴿قَوْمِ هُوْدٍ﴾ کښ اشاره ده چه مراد دَ عاد نه اولنی عادیان وؤ۔ دویم عاد اِرم وؤ۔اولفظ دَ ﴿اَلَا﴾ دلالت کوی چه دَ دوی کفرډیرلوئیے او ښکاره وؤاودَ دوی عذاب هم لوئیے اوښکاره وو﴿كَفَرُوْا رَبَّهُمْ﴾ باء حذف ده یا مراد دَ دے نه انکارکول دی ﴿بُعْدًا﴾ دَ رحمت خاصه دَ اللّٰه تعالیٰ نه لرے والے دا تباهی ده۔

[٦١] دا دریم دلیل نقلی دے په اثبات دَ توحید باندے دَ صالح(علیه السلام) نه اوجواب دَ قوم دَ هغه بیا دَ عوت دے په ﴿اسْتَعْمَرَكُمْ﴾ سره استعمارډیرعمرورکول یا آبادول دَ عمرئ نه ماخوذ دے یعنی دَ عمردپاره وربخل مراد دی اوذکرډَ شجاعت دَ هغه دے په بیان دَ مسئله توحیدکښ اوذکرډَ معجزے اوتکذیب دَقوم اوذکرډَ عذاب دَ قوم دَ هغه دے دپاره دَ تخویف دُنیوی په دے آیت کښ پس دَ بیان دَ توحید نه دوه انعامات الٰهیه دی اول نعمت دَ ایجاد په ﴿اَنْشَاَكُمْ مِّنَ الْاَرْضِ﴾ سره اومراد دا دے چه دَ انسانانوپلار (آدم(علیه السلام)) دَ زمکے نه پیدا دے یا دا چه انسانان خوراك کوی اوهغه دَ زمکے نه پیداکیږی اودَ هغه خوراك نه نطفه جوړیږی یا مِن په معنٰی دَ فی سره دے، دویم نعمت دَ ابقاء دوه امرونه دی استغفار اوتوبه دوه صفتونه دَ اللّٰه تعالیٰ دی قَرِیبٌ مُجِیبٌ، دپاره دَ ترغیب دَ مسئلے دَ توحید ته۔

[٦٢] ﴿مَرْجُوًّا﴾ غوره چه امیدونه ورپورے تعلق لری اشاره ده چه چا دَ حق خبره نه وی کړی نوعام خلق ئے عزت کوی ﴿اَتَنْهٰنَآ﴾ اشاره ده سبب دَ خفګان دَ قوم ته چه مخالفت دے دَ طریقے دَ مشرانو نه۔ ﴿مُرِيْبٍ﴾ مراد دا دے چه زمونږ شك داسے دے چه په تا باندے بدګمانی اوتا سره جګړے کولوته رسوونکے دے۔

يَنْصُرُنِيْ مِنَ اللّٰهِ اِنْ عَصَيْتُهٗ ۗ فَمَا تَزِيْدُوْنَنِيْ غَيْرَ تَخْسِيْرٍ ﴿٦٣﴾ وَيٰقَوْمِ هٰذِهٖ نَاقَةُ اللّٰهِ لَكُمْ
اٰيَةً فَذَرُوْهَا تَاْكُلْ فِيْٓ اَرْضِ اللّٰهِ وَلَا تَمَسُّوْهَا بِسُوْٓءٍ فَيَاْخُذَكُمْ عَذَابٌ قَرِيْبٌ ﴿٦٤﴾ فَعَقَرُوْهَا
فَقَالَ تَمَتَّعُوْا فِيْ دَارِكُمْ ثَلٰثَةَ اَيَّامٍ ۭ ذٰلِكَ وَعْدٌ غَيْرُ مَكْذُوْبٍ ﴿٦٥﴾ فَلَمَّا جَاۗءَ اَمْرُنَا نَجَّيْنَا
صٰلِحًا وَّالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا وَمِنْ خِزْيِ يَوْمِىِٕذٍ ۭ اِنَّ رَبَّكَ هُوَ الْقَوِيُّ الْعَزِيْزُ ﴿٦٦﴾

ما بچ کړی دَ الله تعالیٰ (دَعذاب) نه که چرے ځه دَهغه نافرمانی او کړم پس تاسونه زیاتوئ ماله سیوا دَتاوان نه(٦٣) او اے زما قومه دا اوښه دَ الله تعالیٰ ده تاسولره معجزه ده پس پریکدئ داچه خوراك کوئ په زمکه دَ الله تعالیٰ کښ اومه رسوئ د ے ته هیڅ تکلیف پس اوبه نیسی تاسو لره عذاب نزدے (٦٤) پس دوئ هغه اووژله نو اُوئیل هغه دَژوند مزے واخلئے په خپلو کورونو کښ درے ورځے دا وعده ده بے دروغو(٦٥) پس هر کله چه راغے حکم دَعذاب زمونږ بچ کړو مونږ صالح(علیه السلام) لره اوهغه چاله چه ایمان ئے راوړے وو دَهغه سره په خاص رحمت زمونږ او دَشرمندګئ دَ دغه ورځ نه یقیناً ستا رب هغه ډیر طاقت والا زور ور دے (٦٦)

[٦٣] په دے ایت کښ جواب دے دَ دے ﴿اَتَنْهٰنَآ﴾ ځکه چه ﴿اِنْ عَصَيْتُهٗ﴾ نه مراد په دے آیت کښ دا دے چه نهی دَ شرك نه پریږدم نوداعصیان دے او ﴿اِنْ كُنْتُ﴾ اِن دلته د شك دپاره نه دے لیکن دَمخاطبینودَ مائِل کولودپاره ئے په اِن سره ذکر کړو ﴿بَيِّنَةٍ﴾ نه مراد بشکاره دلیلونه عقلیه دی او ﴿رَحْمَةً﴾ نه مراد وحی اونبوت دے ﴿مَنْ يَّنْصُرُنِيْ﴾ دا استفهام انکاری دے ﴿غَيْرَ تَخْسِيْرٍ﴾ دَ دے دوه معنے دی اول دا چه تاسو په دے وینا خپلے سره (چه دَ شرك نه منع مکوه) زما نقصان زیاتی کوئے ځکه چه ماله دَ حق وینا نه منع کوئے ـ دویمه معنیٰ دا ده چه تاسو دَ مشرانو په دین سره دلیل نیسئی نو په دے سره زیاتی کوئے زما علم ستاسو په خسران او ګمراهئے یعنی شرك خو سبب دَ خسران دے لیکن تاسو دَ شرك دَ اثبات دپاره په عمل دَا باؤ سره دلیل نیسئے نوماته اوس ښه علم راغے چه تاسوپه خسران کښ ئے ځکه چه دا دلیل نه دے بلکه تقلید دَ اباؤ دے۔

[٦٤] ﴿نَاقَةُ اللّٰهِ﴾ کښ اضافت دپاره دَ شرافت دے ځکه چه دَهغے په پیداکیدلوظاهری اسباب نه وؤ ﴿فَذَرُوْهَا﴾ اشاره ده چه تاسوباندے دَ دے خوراك څه تکلیف نیشته۔ ﴿فَيَاْخُذَكُمْ﴾ پدے کښ اشاره ده چه توهین دَمعجزے سبب دَعذاب دنیوی دے۔

[٦٥] عقر اندامونوپریکولوته وئیلے شی عقریوتن اوکړولکه چه سورة قمر(٢٩) کښ دی لیکن نورکسان په هغے باندے رضا وؤځکه ئے دَ جمع صیغه ذکرکړه ﴿تَمَتَّعُوْا﴾ مفسرقرطبی وئیلی دی چه داکنایه ده دَحیات نه یعنی درے ورځے به ژوندی ئے ځکه چه المیت لایتلذذ ولایتمتع بشئ، یعنی مړے (دَ دنیا) په هیڅ څیز باندے نه مزه اخستے شی اونه فائده ﴿دَارِكُمْ﴾ مراد دَ دے نه دَ دوی کلی دی یا مراد ترینه داردَ دنیا دے۔

[٦٦] ﴿بِرَحْمَةٍ﴾ سره اشاره ده چه نجات دَ صالحینو دَ الله تعالیٰ دَ رحمت دَ وجے نه دے دَ هغوی دَ عمل یا دَ زور دَ وجے نه نه دے ﴿وَمِنْ خِزْيِ يَوْمِىِٕذٍ﴾ یعنی شرمندګی اوذلت چه لازم دے دَ عذاب سره یا دا معنیٰ چه نجات هم ورکړو دَ هغه کلی نه اونجات هم ورکړو دَعذاب دَ دنیا نه (چه شرمندګی ده)

وَاَخَذَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوا الصَّيْحَةُ فَاَصْبَحُوْا فِيْ دِيَارِهِمْ جٰثِمِيْنَ ﴿٦٧﴾ كَاَنْ لَّمْ يَغْنَوْا فِيْهَا ؕ اَلَآ
اِنَّ ثَمُوْدَا كَفَرُوْا رَبَّهُمْ ؕ اَلَا بُعْدًا لِّثَمُوْدَ ﴿٦٨﴾ وَلَقَدْ جَآءَتْ رُسُلُنَآ اِبْرٰهِيْمَ بِالْبُشْرٰى قَالُوْا
سَلٰمًا ؕ قَالَ سَلٰمٌ فَمَا لَبِثَ اَنْ جَآءَ بِعِجْلٍ حَنِيْذٍ ﴿٦٩﴾ فَلَمَّا رَاٰۤ اَيْدِيَهُمْ لَا تَصِلُ اِلَيْهِ نَكِرَهُمْ
وَاَوْجَسَ مِنْهُمْ خِيْفَةً ؕ قَالُوْا لَا تَخَفْ اِنَّاۤ اُرْسِلْنَاۤ اِلٰى قَوْمِ لُوْطٍ ﴿٧٠﴾ وَامْرَاَتُهٗ قَآئِمَةٌ فَضَحِكَتْ

اونیوؤ ظالمانو لره تیزے چغے پس شول دوئ په کورونو خپلو کښ پرمخے مړه (٦٧) فناشول ګویاچه دوئ نه وو اوسیدلی په هغے کښ خبر شئ یقیناً ثمودیانو کفر کړے وو په رب خپل باندے خبرشئ هلاکت دے ثمودیانولره (٦٨) او یقیناً راغلی وو ملائك زمونږ ابراهیم(علیه السلام) ته په زیری سره دوئ اُوئیل سلام دے پتا باندے هغه اُوئیل سلام دِ وی پتاسو باندے نو حصارنشو تردے پورے چه رائے وړو سخے وریت کړے شوے (٦٩) پس هرکله چه وے لیدل لاسونه دَ دوئ چه نه رسیدل خوراك ته نو ناآشنا ئے اوګنړل دوی اوپه زړه کښ ئے راغله دَ دوی نه ویره دوئ اُوئیل مه یریږه یقیناً مونږ لیګلے شوی یو قوم لوط(علیه السلام) ته (٧٠) اوښځه دَ دهٗ ولاړه وه نوخوشحاله شوه

﴿يَوْمِئِذٍ﴾ کښ اشاره ده ورځ دَ قیامت ته۔

[٦٧] هرکله چه دوی په خپلو اوازونو اوچغو سره دَ صالح(علیه السلام) بے عزتی اوکړه، چه هغه پدے سورة کښ ذکروؤ،نوعذاب دَ صیحے ذکرشواونورتحقیق په تفسیردَ سورة اعراف کښ تیرشوے دے ﴿جٰثِمِيْنَ﴾ په دے کښ درے حالاتو ته اشاره ده۔ اول دَ هییت دَ وجے پرمخے پریوتل، دویم دَ پاسیدلو طاقت نه لرل ، دریم مړ کیدل۔

[٦٨] ﴿كَاَنْ لَّمْ يَغْنَوْا﴾ دَ دوی دَ کلی فناته اشاره ده ﴿كَفَرُوْا رَبَّهُمْ﴾ دا سبب دَعذاب دے ﴿اَلَا بُعْدًا﴾ جمله خبریه ده روستو دَ عذاب دَ هغوی نه یا جمله دُعائیه ده په باره دَ قیامت کښ۔

[٦٩] دا ځلورمه واقعه ده تعلق لری دَسورة دَ دویمے دعوے سره چه علم غیب خاص اللّٰه تعالیٰ لره دے ځکه چه ابراهیم(علیه السلام) دَ میلمنو دَ حال نه خبرنه وؤ ﴿وَلَقَدْ﴾ واؤ دَ عطف دلالت کوی چه دَ ټولو قصّو اصل مقصد یو دے چه اثبات دَ توحید دے اولَقَد تاکید ئے دَ دے دپاره ذکر کړو چه په مسئله دَ علم غیب کښ دَ منکرینو ډیر شك وؤ نو دَ هغوی رد په دے واقعے سره کیږی، په لفظ ﴿رُسُلُنَآ﴾ سره دَ دوی دَ راتللو مقصد ئے ذکرکړوچه خاص پیغام راوړل دی اوپه سورة حجر (٥١) اوذاریات (٢٤) کښ ضَیفَ ذکرکړی وؤ ځکه چه په خیال دَ ابراهیم(علیه السلام) کښ میلمانه وؤ ۔ ﴿بِالْبُشْرٰى﴾ زیږے دَ هلاکت دَ قوم لوط(علیه السلام) یا زیږے دَ ولد یعنی بشریٰ ئے مقصد وؤ لیکن دَ بشریٰ نه مخکښ ئے دَ سلام اوطعام ذکراوکړو۔ آیت کښ اشاره ده چه سلام کول طریقه دَ ملائکو او دَ ټولو انبیاؤده ﴿سَلٰمٌ﴾ په پیښ سره دلالت کوی په دوام او همیشوالی باندے (ځکه چه جمله اسمیه ده) نودا غوره دے دَ ﴿سَلٰمًا﴾ نه چه په زَورسره دے نوجواب احسن شودَسلام نه او﴿سَلٰمًا﴾ مفعول دے دَپټ فعل دپاره سلّمنا سلامًا یا مفعول دے دَ قالوا دپاره ﴿اَنْ جَآءَ﴾ یعنی حتّٰی جاء یا مِن لفظ پټ دے۔

[٧٠] ﴿لَا تَصِلُ﴾ کنایه ده دَنه خوړلونه ﴿نَكِرَهُمْ﴾ ځکه چه سنت دپاره دَمیلمه داده چه زر شروع به

فَبَشَّرْنٰهَا بِاِسْحٰقَ ۙ وَمِنْ وَّرَآءِ اِسْحٰقَ يَعْقُوْبَ ﴿۷۱﴾ قَالَتْ يٰوَيْلَتٰٓى ءَاَلِدُ وَاَنَا عَجُوْزٌ وَّهٰذَا بَعْلِىْ

پس زیرے ورکړو مونږ هغے ته په اسحاق(علیه السلام) او روستو د اسحاق(علیه السلام) نه په یعقوب(علیه السلام) سره (۷۱) اُوئیل هغے هائے تعجب دے آیا څه به بچے زیګوم اوځه خوبوډئ یم او داخاوند ځما دے

کوی په خوراك باندے اودعوت به قبلوی نودوی د دے طریقے خلاف اوکړو ﴿خِيْفَةً﴾ یره د ضرراوتکلیف رسولو ﴿قَالُوْا لَا تَخَفْ﴾ که سوال اوکړے شی چه ملائك څنګه پوهه شول د ابراهیم(علیه السلام) د زړه په یریدلو دا علم غیب دے؟ جواب دا دے چه سورة حجر (۵۲) نه معلومه ده چه ابراهیم(علیه السلام) پخپله ژبه د دے اظهار کړے وؤ ﴿لَا تَخَفْ اِنَّآ اُرْسِلْنَآ﴾ یعنی مونږ ستا ضرراونقصان له نه یو راغلی ضرر او عذاب د قوم لوط(علیه السلام) له راغلی یو ﴿اُرْسِلْنَآ﴾ دلالت اوکړوچه دوی ملائیك وؤ اوملائیك خوراك نه کوی نویره د ابراهیم(علیه السلام) په دے سره زائله شوه ﴿اِلٰى قَوْمِ﴾ دا د دوی د ارسال دویم مقصد دے۔

[۷۱] ﴿وَامْرَاَتُهٗ قَآئِمَةٌ﴾ یعنی ډیردے نه شاته ولاړه وه دپاره دخدمت دمیلمنوپه دلیل د دے قول فاقبلت امراته، ذاریات (۲۹) یعنی پس د پردے نه مخامخ راغله هرکله چه پوهه شوه چه دوی ملائیك دی۔ ﴿فَصَكَّتْ﴾ دے نه خندا مراد نه ده ځکه چه د حیاناکے زنانه خندا کول په لوئے مجلس کښ مناسب نه دی نو مراد د دے نه خوشحالیدل دی۔ سوال: سورة ذاریات (۲۹) نه معلومه ده چه زیرے د هلك ورکړے شو نو روستو د هغے نه مخامخ راغله او د دے ځائے نه معلومیږی چه زیرے ورته روستو ملاؤ شو۔ اوبل سوال دا دے چه بشارت او شو نو سبب د ضحك څه وؤ؟ نو د دے اول جواب دا دے مجاهد او عکرمه وائي ضحك په معنیٰ د حاضت (حیض) دے یعنی اګر چه بوډئ وه لیکن حیض ئے شروع شونو دا دلیل وؤ د ولادت نو سبب د خوشحالئے ته ضرورت نیشته نو زیرے د ولد ئے ورکړو بیا روستو مخامخ راغله په تعجب کښ شوه دویم جواب دا دے فراء وائي ایت کښ مخکښ والے روستووالے دے یعنی اول ئے بشارت ورکړونو روستو هغه خوشحاله شوه ۔ دریم جواب دا دے چه هر کله ملائیکو اول بشارت ابراهیم(علیه السلام) ته ورکړو(لکه په سورة ذاریات (۲۸) کښ دی) نو ښځے ئے د پردے نه شاته واوریدل نو خوشحاله شوه خیال ئے داوؤ چه د بلے ښځے نه به پدائیش د ولد کیږی نوروستوملائکو دے ته هغه بشارت ورکړو۔ سوال: د سورة حجر او ذاریات نه معلومیږی چه د بشارت بالولد نه او د ازالے د خوف نه روستو ابراهیم(علیه السلام) د هغوی نه تپوس اوکړو چه ما خطبکم نو دا د اهلاك د قوم لوط خبرئے ورکړو او په دے سورة کښ معلومه شوه چه ﴿لَا تَخَفْ اِنَّآ اُرْسِلْنَآ اِلٰى قَوْمِ لُوْطٍ﴾ یعنی د خوف د ازالے د پاره دوی دا لفظ وئیلے دے ؟ جواب دا دے چه دلته په عبارت کښ اختصار دے یعنی اول ئے ازاله د خوف په بشارت د ولد سره اوکړه او بیا ئے ازاله د خوف د تاکید دپاره روستو د سوال د ابراهیم(علیه السلام) نه په ماخطبکم سره خبرد اهلاك د قوم لوط ورکړو۔

شَيْخًا ؕ اِنَّ هٰذَا لَشَيْءٌ عَجِيْبٌ ﴿۷۲﴾ قَالُوْٓا اَتَعْجَبِيْنَ مِنْ اَمْرِ اللّٰهِ رَحْمَتُ اللّٰهِ وَبَرَكٰتُهٗ عَلَيْكُمْ اَهْلَ الْبَيْتِ ؕ اِنَّهٗ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ ﴿۷۳﴾ فَلَمَّا ذَهَبَ عَنْ اِبْرٰهِيْمَ الرَّوْعُ وَجَآءَتْهُ الْبُشْرٰى يُجَادِلُنَا فِيْ قَوْمِ لُوْطٍ ﴿۷۴﴾ اِنَّ اِبْرٰهِيْمَ لَحَلِيْمٌ اَوَّاهٌ مُّنِيْبٌ ﴿۷۵﴾ يٰٓاِبْرٰهِيْمُ اَعْرِضْ عَنْ هٰذَا ۚ اِنَّهٗ قَدْ جَآءَ اَمْرُ رَبِّكَ ۚ وَاِنَّهُمْ اٰتِيْهِمْ عَذَابٌ غَيْرُ مَرْدُوْدٍ ﴿۷۶﴾ وَلَمَّا جَآءَتْ رُسُلُنَا لُوْطًا سِيْٓءَ بِهِمْ وَضَاقَ

بودا یقیناً د ا خامخا کارعجیبه دے (۷۲) دوئ اُوئیل آیا تعجب کوئ دَکار دَ اللّٰه تعالی نه رحمت دَ اللّٰه تعالی دِ وی اوبرکتونه دَهغه دِ وی په تاسو باندے اے کورنئ (دَ ابراهیم(علیه السلام)) یقیناً اللّٰه تعالی ستائیلے شوے لوئے والا دے (۷۳) پس هرکله چه لاړه دَ ابراهیم(علیه السلام) نه ویره اوراغے هغه ته زیرے نوبحث ئے شروع کړو زمونږ سره په باره دَقوم دَ لوط(علیه السلام) کښ (۷٤) یقیناً ابراهیم(علیه السلام) خامخا صبر ناك درد مندګرزیدونکے وو حق ته(۷۵) (دوی اُوئیل) اے ابراهیمه(علیه السلام) مخ واړوه دَ دے نه بے شکه یقیناً راغلے دے حکم دَرب ستا(په هلاکت دَ دوی سره) او یقیناً راتلونکے دے په دوئ باندے عذاب چه نه دے واپس کړے شوے (۷٦) اوهرکله چه راغلل ملائك زمونږ لوط(علیه السلام) ته خفه شو دَهغوئ په وجه اوتنګ ئے شو

[۷۲] ﴿يٰوَيْلَتٰى﴾ داکلمه په وخت دَ تعجب کښ استعمالیږی۔ اودا زنانه سارا بنت هاران وه ، دَ ابراهیم(علیه السلام) دَ تره لور ﴿عَجِيْبٌ﴾ دا عجیبه وؤ په اعتبار دَ عادت سره نه په اعتبار دَ قدرت دَ اللّٰه تعالیٰ۔

[۷۳] ﴿اَمْرِ اللّٰهِ﴾ فیصله دَ اللّٰه تعالیٰ یا قدرت دَ اللّٰه تعالیٰ ﴿رَحْمَةُ اللّٰهِ﴾ غوره دا ده چه دا جمله خبریه خبر دے، دُعانه ده۔ او دا آیت دلیل د ے چه بښځه دَ سړی په اهل بیت کیدلو کښ اصل ده او دارنګ سورة احزاب (۳۳) کښ دی۔

[۷٤] ﴿الْبُشْرٰى﴾ زیرے دَ ولد اوزیرے دَ هلاکت دَ قوم لوط(علیه السلام) ﴿يُجَادِلُنَا﴾ بحث کول دپاره دَ طلب دَ روستوالی دَ عذاب مجادله ده او هغه ذکر ده په سورة عنکبوت آیت (۳۲) کښ او مراد دَ هغے دا دے چه لوط(علیه السلام) په قوم کښ موجود دے او په وخت دَ وجود دَ نبی په قوم کښ عذاب نه راځی نو دا عذاب روستو کړئے۔

[۷۵] دا دلیل دے چه مجادله دَ ابراهیم(علیه السلام) دَ ملائکو سره په طور دَ ضد او انکار سره نه ده بلکه دَ وجے دَ انابت الے اللّٰه نه وه او ورسره حلم او تاوّه هم وو۔ نو دَ حکم دَ وجے نه روستو والے دَ عذاب ئے غوښتلو۔ اودَ تاوّه دَ وجے نه نرمی ئے غوښتله په عذاب کښ اودَ اِنَابَتْ دَ وجے نه ئے تابعداری دَ حق دَ قوم غوښتله۔

[۷٦] دا قول دَ ملائکو دے ابراهیم(علیه السلام) ته ﴿اَعْرِضْ عَنْ هٰذَا﴾ یعنی په دے مجادله کښ فائده نیشته نودا پریخودل پکار دی اوروستو ئے دوه علتونه ذکرکړی دی ﴿غَيْرُ مَرْدُوْدٍ﴾ کښ اشاره ده چه دَ ابراهیم(علیه السلام) په مجادله سره نه واپس کیږی۔

بِهِمْ ذَرْعًا وَّقَالَ هٰذَا يَوْمٌ عَصِيْبٌ ﴿۷۷﴾ وَجَآءَهٗ قَوْمُهٗ يُهْرَعُوْنَ اِلَيْهِ ؕ وَمِنْ قَبْلُ كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ
السَّيِّاٰتِ ؕ قَالَ يٰقَوْمِ هٰٓؤُلَآءِ بَنَاتِيْ هُنَّ اَطْهَرُ لَكُمْ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَلَا تُخْزُوْنِ فِيْ ضَيْفِيْ ؕ اَلَيْسَ
مِنْكُمْ رَجُلٌ رَّشِيْدٌ ﴿۷۸﴾ قَالُوْا لَقَدْ عَلِمْتَ مَا لَنَا فِيْ بَنٰتِكَ مِنْ حَقٍّ ۚ وَاِنَّكَ لَتَعْلَمُ مَا نُرِيْدُ ﴿۷۹﴾ قَالَ
لَوْ اَنَّ لِيْ بِكُمْ قُوَّةً اَوْ اٰوِيْٓ اِلٰى رُكْنٍ شَدِيْدٍ ﴿۸۰﴾ قَالُوْا يٰلُوْطُ اِنَّا رُسُلُ رَبِّكَ لَنْ يَّصِلُوْٓا اِلَيْكَ

په دوئ باندے زړه او اُوئیل ئے دا ورځ سخته ده(۷۷) اوراغے دهٔ ته دَ دهٔ قوم زغلیدے شو دَ دهٔ طرف ته او دَ دے نه مخکښ دوئ وو چه کول ئے ناکاره کارونه دهٔ اُوئیل اے قومه زما دا(زنانه ستاسو) زمالونړه دی دوئ ښه حلالے دی تاسولره پس اویریږئ دَ اللّٰه نه اومه شرموئ مالره په باره دَمیلمنو زما کښ آیانیشته ستاسونه سړے هوښیار(۷۸) دوئ اُوئیل یقیناً ته ښه پوهیږے چه نیشته مونږ لره په لونړو ستا کښ څه حاجت او یقیناً ته پوهیږے په هغه څهٔ چه مونږ غواړو(۷۹) دهٔ اُوئیل ارمان دے چه مالره وے په تاسو باندے طاقت یا پناهی حاصلولے شوے ماقبیلے کلکے ته(۸۰) دوئ (ملائکو) اُوئیل اے لوط(علیه السلام) یقیناً مونږ رالیږلی ملائك یوستا دَ رب هرگز نه شی رسیدلے دوئ تاته (په ضرر سره)

[۷۷] دا پنځمه واقعه ده متعلق ده دَ سورة دَ دویمے دعوے سره چه علم غیب خاص دے په اللّٰه تعالیٰ پورے لوط علیه السلام دَ دے ملائیکو دَحال نه خبرنه وؤاونه ئے پیژندل اوقدرت ئے هم نه وونوقوم ئے نشودفع کولے۔ ﴿بِهِمْ﴾ ضمیر راجع دے ملائکوته یعنی خفه شوپه راتللو دَملائکو سره اول قول غوره دے یا ضمیر راجع دے قوم ته یعنی خفه شو دَ هغوی په بد عمل سره ﴿وَضَاقَ بِهِمْ ذَرْعًا﴾ په اصل کښ اوښ په رفتارکښ خپلے مخکښے خپے (چه ذرع ده) اګدے اخلی اوهرکله چه په هغه باندے باردرون شی نوقدم تنګ کړی او ﴿ذَرْعًا﴾ سینے ته هم وئیلے شی او ﴿بِهِمْ﴾ ضمیرقوم ته راجع دے ملائکوته نه دے راجع۔ نوداکنایه ده دَتنګوالی دَ طاقت نه ﴿عَصِيْبٌ﴾ دَعصابه نه ماخوذدے چه دَ درد دَوجے نه په سرباندے پټئے اوترلے شی۔

[۷۸] اهراع، مجهول په معنیٰ دَ معلوم سره مستعملیږی۔ګویا چه دوی یوبل لره تیزی ورکوله یا شهوت دوی زغلول ﴿وَمِنْ قَبْلُ كَانُوْا﴾ دا سبب دَ اهراع دے ﴿السَّيِّاٰتِ﴾ اغلام بازی، میلمانه تنګول، په کانړو ویشتل، لارے شوکول وغیره بدکارونه ئے کول ﴿قَالَ﴾ دا دَ هغوی دَ دفع کولودپاره ئے اُوئیل۔ ﴿بَنَاتِيْ﴾ مراد دَ دے نه زنانه دَ قوم دی چه هغه نبی دپاره په منزله دَ لونړو وی دا قول دَ مجاهد او سعید بن جبیر دے ﴿اَطْهَرُ﴾ دیکښ معنیٰ دَ تفضیل نه ده مراد ځکه چه اغلام بازئ کښ هیڅ طهارت نیشته ﴿رَشِيْدٌ﴾ صالح اومصلح چه منع کول کوی دَ بدئ نه۔

[۷۹] ﴿حَقٍّ﴾ په معنیٰ دَ حاجت یعنی شهوت دے او دا قول دَ دوی دَ ډیرے بے حیائیے دَ وجے نه وؤ ﴿مَانُرِيْدُ﴾ یعنی طلب دَ دے میلمنو دَ پاره دَ فاحشه کولو۔

[۸۰] ﴿لَوْ﴾ یا دَ تمنّا دپاره دے یا شرطیه دے جزاء ئے حذف ده (لدفعتکم) ضرورما به دفع کړے وئے تاسو ﴿قُوَّةً﴾ نه مراد قوت دَبدن دے یا دَ مددګارو اومؤمنانو ملګرودے او ﴿رُكْنٍ شَدِيْدٍ﴾ نه مراد اللّٰه تعالیٰ نه دے ځکه نبی دَ اللّٰه تعالیٰ نه غفلت نه کوی۔ اوحدیث شریف کښ دی یرحم اللّٰه لوطا لقدکان یاوی الی رکن شدید مقصد دَحدیث بیان دَکمال دَ لوط علیه السلام دے په مدافعت دَ منکر کښ ۔ نه دے مراد دَ دے نه

فَأَسْرِ بِأَهْلِكَ بِقِطْعٍ مِّنَ الَّيْلِ وَلَا يَلْتَفِتْ مِنكُمْ أَحَدٌ إِلَّا امْرَأَتَكَ ۖ إِنَّهُ مُصِيبُهَا مَا أَصَابَهُمْ ۚ إِنَّ مَوْعِدَهُمُ الصُّبْحُ ۚ أَلَيْسَ الصُّبْحُ بِقَرِيبٍ ﴿٨١﴾ فَلَمَّا جَاءَ أَمْرُنَا جَعَلْنَا عَالِيَهَا سَافِلَهَا وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهَا حِجَارَةً مِّن سِجِّيلٍ ۙ مَّنضُودٍ ﴿٨٢﴾ مُّسَوَّمَةً عِندَ رَبِّكَ ۖ وَمَا هِيَ مِنَ الظَّالِمِينَ بِبَعِيدٍ ﴿٨٣﴾ وَإِلَىٰ مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًا ۚ قَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ ۖ وَلَا

نو بوځه کورنئ خپله په ټکړه دَشپه کښ اوشاته دِ نه ګوری ستاسونه هیڅوك سیوا دَښځې ستانه یقیناً دوی ته به رسی هغه عذاب چه دے قوم ته رسیږی یقیناً نیټه دَ عذاب دَ دوئ وخت دَ صبادے آیانه دے صبا نزدے (۸۱) پس هرکله چه راغے عذاب زمونږ اوګرځوو مونږ بره طرف دَکلولاندے دَهغے او راوورولو مونږ په دوئ باندے کانړی دَپخوشوؤ نه پرله پسے (۸۲) نښو والاوو په نیزد دَ رب ستا اونهٔ وو هغه دَ ظالمانونه لرے (۸۳) اولیګلے وو مونږ مدین ته رور دَ هغوی شعیب(علیه السلام) اُوئیل دهٔ اے قومه زما بندګی خاص کړئ اللّٰه تعالیٰ لره نیشته تاسو لره هیڅ حقدار دَبندګئ سیوا دَ هغه نه اومه

تنقید اوعیب دَ هغه۔

[۸۱] ﴿لَنْ يَّصِلُوْٓا اِلَيْكَ﴾ اشاره وه چه زمونږغم مه کوه مونږخوملائك یومونږته هیڅ ضررنه شی راکولے لیکن تاته هم تکلیف نه شی درکولے اوپه دغه وخت کښ جبریل وزرډهغوی په سترګوباندے راخکلونوسترګے ئیے ړندے شولے لکه په سورة قمر(۳۷) کښ دی﴿وَلَا يَلْتَفِتْ﴾ یعنی دَمال اوسامان وغیره پرواه دِ نه کوی ﴿اِلَّا امْرَاَتَكَ﴾ دا استثناء ده دَ ﴿بِاَهْلِكَ﴾ نه یعنی دا مه بوځه او په دے ښځے باندے عذاب راتلل دَ وجے دَ شرك دَ هغے نه وؤ معلومه شوه چه هغه قوم کښ شرك هم وؤ ﴿اَلَيْسَ الصُّبْحُ بِقَرِيْبٍ﴾ یعنی لوط(علیه السلام) اُوئیل ځه غواړم چه دوی دے زرهلاك شی نوجواب اوشوچه صبا خونزدے دے کنه۔

[۸۲] ﴿اَمْرُنَا﴾ مراد دَ دے نه وخت د عذاب یا نفس عذاب دے ﴿وَاَمْطَرْنَا﴾ واؤ ترتیب نه فائده کوی۔ نوکیدے شی چه کانړی وروړل مخکښ وی او اُلټه اړول دَ کلو روستو وی یا اړول دَ کلو مخکښ وی او بیا باران دَ کانړو وی او اللّٰه تعالیٰ قادردے چه کانړی ئیے دَ اړولونه روستوورولی وی لکه چه ﴿وَمَا هِيَ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ بِبَعِيْدٍ﴾ کښ دیته اشاره ده ﴿سِجِّيْلٍ﴾ خټه ده چه پخه کړیشی په اور کښ په دے کښ اشاره وه چه په دے عذاب کښ ماده دَ اور ده۔

[۸۳] ﴿مُسَوَّمَةً﴾ وئیلے شوے دی چه لیکلے شوی وؤپه هره کټه نوم دَکافر﴿عِنْدَ رَبِّكَ﴾ دلیل دے په دے باندے چه داکټے دَ جنس دَ زمکے نه نه وے ﴿وَمَا هِيَ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ بِبَعِيْدٍ﴾ په دے جمله کښ درے توجیهات دی۔ اول دا چه هِيَ ضمیر راجع دے کټو ته او ظالمین نه مراد قوم دَ لوط(علیه السلام) دے، دویمه دا چه ظالمین نه مراد کفار مکه دی او دَ هغوی مثل دی د دے امت نه ځوك چه عمل کوی عمل دَ قوم لوط(علیه السلام)۔ دریمه توجیه دا ده چه ضمیر دَ هِيَ راجع دے کلودَ قوم دَ لوط(علیه السلام) اومراد دَ ظالمین نه کفار مکه دی۔

تَنْقُصُوا الْمِكْيَالَ وَالْمِيْزَانَ اِنِّيْٓ اَرٰىكُمْ بِخَيْرٍ وَّاِنِّيْٓ اَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ مُّحِيْطٍ ﴿۸۴﴾ وَيٰقَوْمِ اَوْفُوا
الْمِكْيَالَ وَالْمِيْزَانَ بِالْقِسْطِ وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ اَشْيَآءَهُمْ وَلَا تَعْثَوْا فِى الْاَرْضِ مُفْسِدِيْنَ ﴿۸۵﴾ بَقِيَّتُ
اللّٰهِ خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ۚ وَمَآ اَنَا عَلَيْكُمْ بِحَفِيْظٍ ﴿۸۶﴾ قَالُوْا يٰشُعَيْبُ اَصَلٰوتُكَ تَاْمُرُكَ
اَنْ نَّتْرُكَ مَا يَعْبُدُ اٰبَآؤُنَآ اَوْ اَنْ نَّفْعَلَ فِىْٓ اَمْوَالِنَا مَا نَشٰٓؤُا ۭ اِنَّكَ لَاَنْتَ الْحَلِيْمُ الرَّشِيْدُ ﴿۸۷﴾

کموئ پیمانه اوتله یقیناً ځه وینم تاسولره په مالداریٔ کښ او یقیناً ځه یریږم په تاسو باندے دَ عذاب دَ ورځے راګیروونکے نه (۸٤) او اے قومه زما پوره کوئ پیمانه اوتله په انصاف سره اومه کموئ دَخلقونه مالونه دَهغوئ اومه ګرځئ په زمکه کښ ورانے کوونکی (۸۵) طاعت دَ اللّٰه تعالیٰ غوره دے تاسوه لره که تاسو خبره منونکی یئ اوځه نه یم په تاسو باندے نګهبان (ساتونکے)(۸٦) دوئ اُوئیل اے شعیبؑ آیاستا دین حکم کوی تاته چه پریږدو مونږ هغه طریقه چه بندګی کوله په هغے مشرانو زمونږ (یاپریږدو) کار کول په خپلو مالونو کښ په رضا خپلے سره یقیناً ته (په خپل ګمان) صبرناك او هوښیار ئے (۸۷)

[۸٤] دا شپږمه واقعه ده چه دلیل نقلی دے په اوله دعوه دَ دے سورة باندے۔ یعنی شعیبؑ بیان کړ یوه مسئله دَ توحید او منع کړے ئے وؤ قوم لره دَ خیانت دَ مالونونه ﴿اِنِّيْٓ اَرٰىكُمْ بِخَيْرٍ﴾ یعنی مالداری او فراخی دَ رزق ﴿يَوْمٍ مُّحِيْطٍ﴾ دا محیط اصل کښ صفت دَ عذاب دے لیکن دهٔ باندے زیر دے دَ وجے دَ نزدیکت دَ یوم نه چه دے ته جَرللجوار وائي ۔ په دے آیت کښ دلیل دے په دے خبره چه شرك کول او پیمانه او تول کښ نقصان کول سببونه دَعذاب دی۔

[۸۵] په دے ایت کښ درے حکمونه دی۔ اول امردے په پوره کولودَ پیمانه اودَ تول په انصاف سره اودا حکم بالقسط دَ لاتنقصوانه روستودَ دے دپاره راوړو چه انسان مکلف نه دے په زیاتی ورکولو سره بله وجه دَ دے دا ده چه په لاتنقصوا کښ نهی ده دَ دوی دَ قبیح عمل نه صراحةً نوپدیکښ امربالمعروف دے په باره دَکیل اووزن کښ۔دویم حکم پدیکښ نهی دَبخس نه ده او مراد دَ دے نه هر قسم نقصان کول دی په مالونو کښ په غلا او په غصب او په ناجائزو حیلو سره ۔ او دریم حکم منع ده دَ فساد نه ۔ او مراد دَ فساد نه منع کول دَ خلقو دی دَ تابعداریٔ دَ شعیبؑ نه او په آیت کښ اشاره ده چه نقصان په پیمانه او تول کښ فساد کول دی۔

[۸٦] ﴿بَقِيَّتُ اللّٰهِ﴾ مراد دَ دے نه جائز ګټه ده په تجارت کښ یا مراد دَ دے نه طاعت دَ اللّٰه تعالیٰ او دَ رسولﷺ دے ﴿اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ﴾ دَ دے شرط اوله وجه دا ده چه ثواب دَ طاعت موقوف دے په ایمان باندے۔ دویمه وجه دا ده چه دَ دهٔ قوم دعویدار دَ ایمان وؤ ﴿بِحَفِيْظٍ﴾ بچ کوونکے دَ زوال دَ نعمتونودَ اللّٰه تعالیٰ ستاسونه په سبب دَ ګناهونوستاسو۔

[۸۷] صَلٰوة، په معنیٰ دَ مونځ دے ځکه چه شعیبؑ پیرمونځ ګذار وؤیاپه معنیٰ دَ دین دے اودا ویناد دَ دوی په طریقه دَ استهزاء سره ده ﴿اَوْ اَنْ نَّفْعَلَ﴾ په دے کښ درے توجیه دی اول دا چه دَ دے نه مخکښ لفظ دَ تنهانا پټ دے۔ دویم دا چه لفظ دَ لَا مقدر دے۔ دریم دا چه دا عطف دے په ﴿مَا يَعْبُدُ﴾ باندے مراد دَ دوی دا وؤ چه مالونه زمونږ خپل دی زمونږ اختیار دے۔که هرقسم تصرف پکښ کوو۔ او دا قول دَ هغو

قَالَ يٰقَوْمِ اَرَءَيْتُمْ اِنْ كُنْتُ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّيْ وَرَزَقَنِيْ مِنْهُ رِزْقًا حَسَنًا ؕ وَمَآ اُرِيْدُ اَنْ اُخَالِفَكُمْ
اِلٰى مَآ اَنْهٰىكُمْ عَنْهُ ؕ اِنْ اُرِيْدُ اِلَّا الْاِصْلَاحَ مَا اسْتَطَعْتُ ؕ وَمَا تَوْفِيْقِيْٓ اِلَّا بِاللّٰهِ ؕ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ
وَاِلَيْهِ اُنِيْبُ ﴿۸۸﴾ وَيٰقَوْمِ لَا يَجْرِمَنَّكُمْ شِقَاقِيْٓ اَنْ يُّصِيْبَكُمْ مِّثْلُ مَآ اَصَابَ قَوْمَ نُوْحٍ اَوْ قَوْمَ هُوْدٍ اَوْ
قَوْمَ صٰلِحٍ ؕ وَمَا قَوْمُ لُوْطٍ مِّنْكُمْ بِبَعِيْدٍ ﴿۸۹﴾ وَاسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوْبُوْٓا اِلَيْهِ ؕ اِنَّ رَبِّيْ رَحِيْمٌ وَّدُوْدٌ ﴿۹۰﴾ قَالُوْا
يٰشُعَيْبُ مَا نَفْقَهُ كَثِيْرًا مِّمَّا تَقُوْلُ وَاِنَّا لَنَرٰىكَ فِيْنَا ضَعِيْفًا ۚ وَلَوْلَا رَهْطُكَ لَرَجَمْنٰكَ ۫ وَمَآ اَنْتَ

اُوئیل دهٔ ایے زما قومه فکر او کړئ تاسو که یم ځه په بنکاره خبره دَ طرف دَ رب زمانه او راکړے وی ماته نعمت خائسته اوځه نه غواړم چه لارشم په خلاف ستاسو هغه کار کولو ته چه تاسو منع کوم دَهغے نه ځه نه غواړم مګر اصلاح کول ترسوچه طاقت لرم اونه دے ځما مدد مګر په اللّٰه تعالیٰ دے خاص په هغه باندے سپارلے دے مائځان خپل اوخاص هغه ته به ځه ورګرزم(۸۸) او اے قومه زما سبب دے جوړنه شی تاسو لره دُشمنی زما سره دَ دے خبرے چه اورسیږی تاسوته عذاب په شان دَهغه چه رسیدلے دے قوم دَنوح(علیه السلام) یا قوم دَهود(علیه السلام) یاقوم دَصالح(علیه السلام) ته اونه دے قوم دَلوط(علیه السلام) ستاسونه ځه لرے (۸۹) اوبخنه اوغواړئ دَ رب خپل نه بیاتوبه ورته اوباسئ یقیناً رب ځما رحم کوونکے دے مینه کوونکے دے (۹۰) دوی اُوئیل ایے شعیب(علیه السلام) نه پوهیږو مونږپه ډیرو هغه خبرو چه ته ئے وائے اویقیناً مونږ خامخا وینو تالره په مونږ کښ کمزورے او که ستا خاندان نه وے نومونږپه ته سنګسار کړے وے اوتهٔ نه ئے

سرمایه دارو وی چه دَ دین الٰهی پابندی نه منی﴿اِنَّكَ لَاَنْتَ الْحَلِيْمُ الرَّشِيْدُ﴾ دا په طریقه دَ استهزاء سره دے۔ یا په دے کښ لفظ دَ ﴿بِزَعْمِكَ﴾ پټ دے۔

[۸۸] ﴿رِزْقًا حَسَنًا﴾ مراد دَ دے نه وحی اونبوت دے یامراد دَ دے نه حلال رزق دے او جزاء دَشرط پټه ده چه نه دے جائز مالره خیانت په وحی دَ اللّٰه تعالیٰ کښ ﴿اَنْ اُخَالِفَكُمْ﴾ مراد دَ دے نه سبقیت (وړاندے والے) دے اودَ لفظ دَ اِلٰی نه روستو لفظ دَ ارتکاب پټ دے، یا اُخَالِفَكُم په خپلے معنے سره دے او دَ هغے نه روستو لفظ دَ اَمِيْلُ مقدر دے او په دے آیت کښ پنځه آداب دی دپاره دَ دعوت کوونکی دَ حق ﴿وَاِلَيْهِ اُنِيْبُ﴾ معنیٰ دا چه ټولو تکالیفو کښ ځه خاص اللّٰه تعالیٰ ته رجوع کوم۔ یا مراد دا دے چه اللّٰه تعالیٰ ته رجوع ده په آخرت کښ۔ اوشریبنی په تفسیر کښ لیکلی دی چه نبی ﷺ شعیب علیه السلام ذکر کړو نو اُوئیل ئے چه دے خطیب الانبیاء وؤ ځکه چه قوم سره ئے خائسته مراجعه کړیده۔

[۸۹] په دے آیت کښ تخویف دنیوی دے په ذکرِدَعذاب دَتیرشووقومونو۔ اوپه آیت کښ تقدیرِدَ عبارت دے۔ لایحملنکم شقاقی علی ترك الایمان فیصیبکم الایة۔ اجرام معنیٰ ده په جرم باندے باعث کیدل ﴿بِبَعِيْدٍ﴾ یومعنیٰ دا ده چه قوم دَ لوط علیه السلام ستاسونه لرے نه دے ﴿بِبَعِيْدٍ﴾ دا لفظ په قوم باندے حمل کیدل صحیح دی ځکه چه دا دَ مذکر او مؤنث دواړو دپاره استعمالیږی یا لفظ دَ اهلاك دَ قوم نه مخکښ مقدر دے۔

[۹۰] په دے آیت کښ ترغیب دے اوآیت کښ لف نشرمرتب دے یعنی استغفار غواړئ نواللّٰه تعالیٰ به دربانده رحم اوکړی اوتوبه اوباسئ نواللّٰه تعالیٰ به درسره محبت اومینه اوکړی حدیث شریف کښ رازی

عَلَيْنَا بِعَزِيْزٍ ﴿۹۱﴾ قَالَ يٰقَوْمِ اَرَهْطِيْٓ اَعَزُّ عَلَيْكُمْ مِّنَ اللّٰهِ ؕ وَاتَّخَذْتُمُوْهُ وَرَآءَكُمْ ظِهْرِيًّا ؕ اِنَّ رَبِّيْ بِمَا تَعْمَلُوْنَ مُحِيْطٌ ﴿۹۲﴾ وَيٰقَوْمِ اعْمَلُوْا عَلٰى مَكَانَتِكُمْ اِنِّيْ عَامِلٌ ؕ سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ۙ مَنْ يَّاْتِيْهِ عَذَابٌ يُّخْزِيْهِ وَمَنْ هُوَ كَاذِبٌ ؕ وَارْتَقِبُوْٓا اِنِّيْ مَعَكُمْ رَقِيْبٌ ﴿۹۳﴾ وَلَمَّا جَآءَ اَمْرُنَا نَجَّيْنَا شُعَيْبًا وَّالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا ۚ وَاَخَذَتِ الَّذِيْنَ ظَلَمُوا الصَّيْحَةُ فَاَصْبَحُوْا فِيْ دِيَارِهِمْ جٰثِمِيْنَ ﴿۹۴﴾ كَاَنْ لَّمْ

په مونږ باندے عزتمند(۹۱) دهٔ اُوئیل اے زما قومه آیا زما خاندان ډیر عزتمند دے په تاسوباندے دَ اللّٰه تعالیٰ نه او ګرځولو تاسو هغه لره روستودَځان نه شاته غورزولے شوے یقیناً رب زما په هغه کارونو چه تاسو ئے کوئ راګیروونکے دے(۹۲) او اے قومه زما کارکوئ په خپله طریقه او طاقت باندے یقیناً څه هم کار کوونکے یم (دَدعوت) زردے چه تاسو به پوهه شئ چه څوك دے چه راځی هغه ته عذاب چه رسوابه ئے کړی اوڅوك دے هغه چه دروغژن وی اوانتظار کوئ څه هم تاسوسره انتظار کوونکے یم (۹۳) اوهرکله چه راغے حکم دَ عذاب زمونږ بچ کړو مونږ شعیب(علیه السلام) اوهغه چاړه چه ایمان ئے راوړے وو دَهغه په ملګرتیا کښ په وجه دَ رحمت زمونږ او اونیو ظالمانولره هیبت ناکے چغے پس شول په خپلو کورونو کښ پرمخے پراته مړی (فناشول)(۹٤) لکه چه نه وو

شعیب علیه السلام خطیب الانبیاء وؤ ځکه دَ هغه په دعوت کښ دَ دعوت ټولے طریقے شته۔

[۹۱] په دے آیت کښ تکذیب دے دَ طرف دَ قوم نه په طریقه دَ توهین اودَ بے ادبئ سره۔ په ځلورو طریقو سره ئیے دَ هغه توهین کړے دے۔ اوله جمله هم دَ دوی نه په طریقه دَ سپکوالی ده ځکه چه دوی خو دَ هغه په ژبه باندے پوهیدل او بیا هم وائي ﴿مَانَفْقَهُ﴾ دویمه جمله کښ دَ ضعیف نه مراد دا دے چه ته یواځے ئیے ملګرے دے نیشته ۔ یا دا چه دَ دنیا په مصلحت او سیاست نه پوهیږے لکه چه اوس هم دنیا پرست خلق حق پرستوته وائي چه تاسو په سیاست نه پوهیږئ۔

[۹۲] دا زورنه ده دَ طرف دَ شعیب علیه السلام نه دَ قوم په دریمه جمله باندے یعنی باطل پرست قوم دَ اللّٰه تعالیٰ لحاظ نه کوی بلکه دَ مخلوق لحاظ کوی او دَ اللّٰه تعالیٰ نه، نه یږیږی او دَ خلقو نه یره کوی ﴿ظِهْرِيًّا﴾ منسوب دے ظهر ته او ظاء باندے زیرَ وجے دَ نسبت نه دے او ﴿وَرَآءَكُمْ﴾ په ډیر روستو والی باندے دلالت کوی۔

[۹۳] په دے آیت کښ اعلان برائت دے دَ قوم نه اوتخویف دَعذاب دے په حکیمانه طریقه سره۔ ﴿مَكَانَتِكُمْ﴾ مکانت هغه حالت ته وئیلے شی چه انسان په هغے کښ په کارکولو باندے طاقت لری۔ ﴿سَوْفَ﴾ په دے کښ حرف دَ فاء نه دے ذکر کړے اشاره ده چه دا استیناف بیانی دے ﴿وَارْتَقِبُوْٓا﴾ ارتقاب کښ مبالغه ده په نسبت دَ انتظار ځکه چه په دے کښ معنیٰ دَ حفاظت هم مراد ده سره دَ انتظار نه۔

[۹٤] په دے آیت ذکر دَ نجات دَ شعیب علیه السلام او دَ مؤمنانو دے او سبب دَ هغے رحمت دَ اللّٰه تعالیٰ دے او ذکر دَعذاب دے په منکرینو باندے۔ سوال: قصّه دَ عاد اودَ مدین کښ ﴿وَلَمَّا جَآءَ﴾ په واؤ سره او په قصّه دَثمود او قوم لوط کښ په حرف دَ فَاء سره ولے ذکر کړے دے؟ جواب په قصّه دَ ثمود اودَ قوم لوط کښ ذکر دَ وعدے دَعذاب تیرشوے دے وَعد غیر مکذوب او موعدهم الصبح نو هغه په منزله دَ سبب دے نو

يَغْنَوْا فِيهَا ۗ أَلَا بُعْدًا لِّمَدْيَنَ كَمَا بَعِدَتْ ثَمُودُ ﴿٩٥﴾ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوسَىٰ بِآيَاتِنَا وَسُلْطَانٍ مُّبِينٍ ﴿٩٦﴾
إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَمَلَإِيْهِ فَاتَّبَعُوا أَمْرَ فِرْعَوْنَ ۖ وَمَا أَمْرُ فِرْعَوْنَ بِرَشِيدٍ ﴿٩٧﴾ يَقْدُمُ قَوْمَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ
فَأَوْرَدَهُمُ النَّارَ ۖ وَبِئْسَ الْوِرْدُ الْمَوْرُودُ ﴿٩٨﴾ وَأُتْبِعُوا فِي هَٰذِهِ لَعْنَةً وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ ۗ بِئْسَ الرِّفْدُ
الْمَرْفُودُ ﴿٩٩﴾ ذَٰلِكَ مِنْ أَنبَاءِ الْقُرَىٰ نَقُصُّهُ عَلَيْكَ مِنْهَا قَائِمٌ وَحَصِيدٌ ﴿١٠٠﴾ وَمَا ظَلَمْنَاهُمْ وَلَٰكِن

دیره په هغے (ځائے) کښ خبرشئ تباهی ده مدین والو لره لکه چه تباه شول ثمودیان (۹۵) او یقیناً اُولیږلو مونږ موسی(علیه السلام) لره په معجزاتو خپلو اوپه دلیل ښکاره سره (۹۶) فرعون ته اومشرانو دَقوم دَهغه ته پس روان شو هغوی په طریقه دَ فرعون پسے اونه وه طریقه دَفرعون هیڅ فائدے والا(۹۷) وارنږے به ځی دَقوم خپل نه په ورځ دَقیامت پس ورننباسی به دوئ اُورته اوناکاره ګودر دے چه ورته تلل کیدیشی (۹۸) اوپرله پسے کیږی په دوی باندے په دے دُنیا کښ لعنت اوپه ورځ دَقیامت هم ناکاره دے نعمت ورکړے شوے(۹۹) داچه (ذکرشو) بعض دَخبرونودَ کلونه دی بیانوو مونږ دا په تاباندے بعض دَهغے نه ولاړ(شته په خپل ځائے) اونوردل دول کړے شوی دی (۱۰۰) اوظلم نه دے کړے مونږ په دوئ باندے اولیکن

فاء ئے ذکر کړیده او په قصه دَ عاد اودَ مدین کښ ذکرد وعدے محکمښ نیشته۔

[۹۵] په دے آیت کښ تشبیه دَ عذاب دَ قوم دَ شعیب علیه السلام ده دَعذاب دَ ثمود سره دَ وجے دَ مشابهت دَ عذاب دَ صیحه او رجفه نه په دواړو باندے یا دَ دے وجے نه چه دواړه په عرب کښ داخل وؤ۔ په آیت (٦٧)کښ اَخذ مذکردے اوپه دے آیت (٩٤)کښ اخذت مؤنث دے؟ مذکر دَ دے وجے نه چه صیحه په تاویل دَ صیاح سره ده دَ ابن عباس رضی الله عنه روایت دے چه صیحه دَ ثمود دَ زمکے نه وه او صیحه دَ قوم شعیب علیه السلام دَ آسمان نه وه۔

[۹٦] دَ دینه اُومه واقعه ده دَ موسیٰ علیه السلام مختصر ده ځکه چه په سورة یونس کښ په تفصیل سره بیان شوه ۔ دَ دے تعلق دَ سورة دَ دریمے دعوے سره دے۔ یعنی شجاعت دَ موسیٰ علیه السلام په مقابله دَ فرعون کښ یاد کړئ۔ ﴿بِاٰیٰتِنَا﴾ آیات، معجزات عامه دَ موسیٰ علیه السلام ﴿سُلْطَانٍ مُّبِیْنٍ﴾ خاص معجزه دَ عصا مراد ده یا هغه رعب مراد دے چه موسیٰ علیه السلام له ورکړے شوے وؤ۔ او فرعون ترے نه یره کوله۔

[۹۷] په دے آیت کښ دَ هغوی لوئ خباثت ذکر شوے دے چه په مخالفت دَ موسیٰ علیه السلام کښ ئے دَ فرعون تابعداری کوله مراد دَ ﴿اَمْرَ﴾ نه طریقه او دین دے ﴿وَمَآ اَمْرُ فِرْعَوْنَ بِرَشِیْدٍ﴾ دا رد دے دَ قول دَ فرعون چه سورة حم مؤمن (۲۹)کښ دے یعنی دعویٰ دَ رُشد او دَ ارشاد ئے کوله۔

[۹۸] دا تخویف اُخروی دے ۔ او جزاء دَجنس دَ عمل نه وی یعنی دے په دنیا کښ دَ قوم مقتدا وؤنوپه ورځ دَ قیامت به هم داسے وی ﴿اَلْوِرْدُ﴾ ګودر دَ اوبو ته وئیلے شی۔لیکن جهنم ته ئے وِرْدُ تهکماً وئیلے دے۔

[۹۹] دا دَعذاب دنیوی او اُخروی دواړو ذکر دے ۔ په دنیا کښ لعنت دَ طرف دَ الله تعالیٰ او دَ ملائیکو اومؤمنانودَ طرف نه دے اولعنت ته ئے ﴿اَلرِّفْدُ﴾ ئے تهکماً وئیلے دے ځکه چه رفد مدد ته وئیلے شی او لعنت ته په اصل کښ نشی وئیلے۔

ظَلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ فَمَآ اَغْنَتْ عَنْهُمْ اٰلِهَتُهُمُ الَّتِيْ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ لَّمَّا جَآءَ اَمْرُ
رَبِّكَ ؕ وَمَا زَادُوْهُمْ غَيْرَ تَتْبِيْبٍ ﴿۱۰۱﴾ وَكَذٰلِكَ اَخْذُ رَبِّكَ اِذَآ اَخَذَ الْقُرٰى وَهِيَ ظَالِمَةٌ ؕ اِنَّ اَخْذَهٗٓ
اَلِيْمٌ شَدِيْدٌ ﴿۱۰۲﴾ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّمَنْ خَافَ عَذَابَ الْاٰخِرَةِ ؕ ذٰلِكَ يَوْمٌ مَّجْمُوْعٌ ۙ لَّهُ النَّاسُ
وَذٰلِكَ يَوْمٌ مَّشْهُوْدٌ ﴿۱۰۳﴾ وَمَا نُؤَخِّرُهٗٓ اِلَّا لِاَجَلٍ مَّعْدُوْدٍ ﴿۱۰۴﴾ يَوْمَ يَاْتِ لَا تَكَلَّمُ نَفْسٌ اِلَّا بِاِذْنِهٖ ۚ
فَمِنْهُمْ شَقِيٌّ وَّسَعِيْدٌ ﴿۱۰۵﴾ فَاَمَّا الَّذِيْنَ شَقُوْا فَفِي النَّارِ لَهُمْ فِيْهَا زَفِيْرٌ وَّشَهِيْقٌ ﴿۱۰۶﴾ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا مَا

ظلم کؤو دوئ په خپلو ځانونو پس لرے نه کړو دَ دوئ نه مدد ګارانو دَ دوئ کوم چه دوئ به رامددکول هغوی سیوا دَ الله تعالیٰ نه هیڅ (مصیبت) هرکله چه راغے عذاب دَ رب ستا او زیاتی نه کړو دوی لره سیوا دَ تباهئ نه (۱۰۱) اودغه شان نیول دَرب ستادی هرکله چه نیسی کلو لره اوهغه ظلم کوونکی وی یقیناً نیول دَهغه درد ناك سخت دی (۱۰۲) یقیناً په دے کښ شته خامخا عبرت هغه چاله چه یریږی دَعذاب دَ آخرت نه دا داسے ورځ ده چه جمع به کړیشی دے ته ټول خلق او دا داسے ورځ ده چه ګواهی به اوکړے شی په هغے کښ(۱۰۳)اونه روستو کوؤ دا مګر نیټے لرے پورے (۱۰۴) هغه ورځ چه راشی(نیټه) خبرے به نه شی کولے هیڅ نفس مګر په حکم دَ الله تعالیٰ سره پس څوك به دَ دوئ نه بدبخت وی اوڅوك به نیك بخت وی(۱۰۵) پس هغه کسان چه بدبخت دی نو دوئ به په اُور کښ وی دوئ لره به په هغے کښ اسویلی او هیړاروی (۱۰۶) همیشه به وی دوئ په هغے کښ څوپورے

[۱۰۰] دا آیت متعلق دے دَ ټولو واقعاتو مخکنو سره ﴿قَآئِمٌ﴾ موجود دی لکه مصرد فرعونیانواو ابادئے دَ ثمودیانو په غرونو دَ مدائِن صالح کښ اوکلی دَ عادیانواوقوم لوط فنا شویدی۔

[۱۰۱] دا آیت هم متعلق دے دَ مخکنو واقعاتوسره اوپه دے کښ ئے سبب دَ عذاب دَ هغوی ذکرکړے دے یعنی شرك اورد دے په شرك دَ تصرف باندے یعنی دغه ټولو قومونو دَ الله تعالیٰ نه سیوا نور معبودان او واکداران نیولی وؤ۔ لیکن دَ عذاب په وخت کښ هغوی دَ دوی هیڅ امداد او نه کړو بلکه دَ هغوی دَ وجے نه تباهی ئے زیاته شوه ﴿وَمَازَادُوْهُمْ﴾ سبب دَ دے زیادت عبادت دَ دغه معبودانو وؤ او دا سے په سورة احقاف (۲۸) کښ راځی۔

[۱۰۲] په دے آیت کښ تخویف دے په طریقه دَ التفات سره موجود وُخلقو ته اوسبب دَعذاب ئے ذکرکړے دے چه هغه ظلم دے۔

[۱۰۳] په دے کښ اشاره ده چه خوف دَعذاب دَ اخرت سبب دَعبرت اخستلودے دَ دُنیا دَ عذابونونه او په دے کښ انتقال دے ذکردَ تخویف اُخروی ته په دے آیت کښ دَ اخرت دوه نومونه ئے ذکرکړیدی۔

[۱۰۴] اشاره ده چه دَ قیامت راتلل دَ الله تعالیٰ په اختیار کښ دی او دَ هغے دپاره اجل مقرر دے۔

[۱۰۵] په دے آیت کښ ذکر دَ هیبت دَ قیامت دے اوداسے په سورة نباء (۲۸) کښ هم ذکر دے اوتقسیم دَ خلقو دے دوه قسمونوته اول شَقِی، او دا دوه قسمه دی کافر مشرك هغه اعلیٰ شقی دے او مؤمن ګناهګار هغه ادنیٰ شقی دے۔ او دویم سَعِید نیك بخت خلق۔

دَامَتِ السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ اِلَّا مَا شَآءَ رَبُّكَ ؕ اِنَّ رَبَّكَ فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيْدُ ﴿۱۰۷﴾ وَاَمَّا الَّذِيْنَ سُعِدُوْا
فَفِى الْجَنَّةِ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا مَا دَامَتِ السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ اِلَّا مَا شَآءَ رَبُّكَ ؕ عَطَآءً غَيْرَ مَجْذُوْذٍ ﴿۱۰۸﴾
فَلَا تَكُ فِىْ مِرْيَةٍ مِّمَّا يَعْبُدُ هٰٓؤُلَآءِ ؕ مَا يَعْبُدُوْنَ اِلَّا كَمَا يَعْبُدُ اٰبَآؤُهُمْ مِّنْ قَبْلُ ؕ وَاِنَّا لَمُوَفُّوْهُمْ

چه وی آسمانونه اوزمکه (دَهغه وخت) مگر هغه کسان چه اوغواړی رب ستا یقیناً ستارب کوونکے دَهغه کاردے چه اُوغواړی(۱۰۷) اوهغه کسان چه نیك بخت کړے شویدی نو(دَ اول نه) به داخلیږی په جنت کښ همیشه به وی په هغے کښ ترسوپورے چه وی آسمانونه اوزمکه (دَهغه وخت) مگر هغه کسان چه اوغواړی ستا رب بخشش دے بے انتها (۱۰۸) پس مه کیږه په شك کښ دَوجے دَهغے چه بندگی ئے کوی دا کسان دوی بندگی نه کوی مگر پشان دَ هغے چه بندگی کوله مشرانو دَ دوئ دَ دے نه پخوا او یقیناً مونږ به پوره ورکوو دوئ ته

[۱۰۶] په دے کښ تخویف اخروی دے یوے ډلے ته۔ شقی هغه دے چه نافرمانی دَ اللّٰه تعالیٰ اودَ رسول نه ئے کړے وی یا فاسق وی یا مشرك او کافروی ﴿زَفِيْرٌ﴾ ساه راښکلوته وائي په وخت دَ غم اودَ افسوس کښ اوشَهِيْقٌ دغه ساه ویستلوته وائي چه په زورسره وی۔ اودا دواړه آوازونه دَ خروپه آوازکښ ښکاره موجود وی۔ دارنګ زفیر آواز دَ مرئے دے اوشهیق آواز دَ سینے دے او زفیرسخت آواز دے او شهیق په دمه آواز دے او دا ټول دلالت کوی په ډیر غم باندے۔

[۱۰۷] آسمانونه اوزمکه دَ قیامت مراد دی په دلیل دَ آیت سورة ابراهیم (۴۸) اوهغه آسمانونه اوزمکه همیشه به وی ﴿اِلَّامَاشَآءَ رَبُّكَ﴾ نه مراد مؤمنان ګناه ګار دی چه معاف نه شی او جهنم ته ئے داخل کړی څه وخت د پاره بیا به ئے را اوباسی نو دا دَ خَالِدِيْنَ نه استثناء ده۔ یا دَ دے نه مراد نور قسمونه دَ عذاب دَ جهنم دی سیوا دَ اورنه لکه زمهریراوخوراك وښنکاك په جهنم کښ ۔ نو دا دَ النّار نه استثناء ده ﴿اِنَّ رَبَّكَ فَعَّالٌ لِّمَايُرِيْدُ﴾ کښ اشاره ده چه په اللّٰه تعالیٰ څوك اعتراض نشی کولے۔ اونه دَ هغه دَ ارادے نه خلاف کیدے شی۔

[۱۰۸] په دے آیت کښ بشارت دے ﴿سُعِدُوْا﴾ دَ مجهول په صیغه سره اشاره ده چه سعادت صرف په فضل دَ اللّٰه تعالیٰ سره حاصلیږی ﴿اِلَّا مَاشَآءَ رَبُّكَ﴾ دَ دے نه مراد هغه ګنهګارمؤمنان دی چه معاف نکړے شی نوهغوی به دَ ابتداء نه جنت ته داخل نکړے شی څه وخت روستو به ئے داخل کړی نودا استثناء ده دَ دے لفظ نه ففی الجنة ای یدخُلُون فی الجنة ابتداءً الا المؤمنین العصاة۔ یعنی نیك بخت خلق به دَ اول سر نه جنت ته داخلیږی مګر ګنهګارمؤمنان ﴿عَطَآءً غَيْرَ مَجْذُوْذٍ﴾ کښ اشاره ده چه دَ اِلَّامَاشَآءَ رَبُّكَ ۔ دامطلب نه دے چه جنت ته دَ داخلیدلونه روستو به بیاراوزی یعنی څوك چه یوځل جنت ته داخل شی نو بیا به ترینه بهرنه راوزی۔

نَصِيْبَهُمْ غَيْرَ مَنْقُوْصٍ ﴿۱۰۹﴾ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ فَاخْتُلِفَ فِيْهِ ؕ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ
مِنْ رَّبِّكَ لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ ؕ وَاِنَّهُمْ لَفِيْ شَكٍّ مِّنْهُ مُرِيْبٍ ﴿۱۱۰﴾ وَاِنَّ كُلًّا لَّمَّا لَيُوَفِّيَنَّهُمْ رَبُّكَ
اَعْمَالَهُمْ ؕ اِنَّهٗ بِمَا يَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ﴿۱۱۱﴾ فَاسْتَقِمْ كَمَاۤ اُمِرْتَ وَمَنْ تَابَ مَعَكَ وَلَا تَطْغَوْا ؕ اِنَّهٗ
بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿۱۱۲﴾ وَلَا تَرْكَنُوْۤا اِلَى الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا فَتَمَسَّكُمُ النَّارُ ۙ وَمَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ

برخه دَ دوئ چه هیڅ نیمګړے به نه وی (۱۰۹) او یقیناً ورکړے وو مونږ موسیٰ(علیه السلام)ته کتاب (تورات) نو اختلاف اوکړے شو په هغے کښ اوکه نه وے نیټه (دَعذاب) چه مخکښ کړے شویده دَطرف دَرب ستانه خامخا فیصله به شوے وه په مینځ دَ دوئ کښ او یقیناً دوئ په شك کښ دی دَ دے نه چه کلك شك دے (۱۱۰) او یقیناً هریو دَ دوئ نه هرکله (چه پورته کړے شی) نوپوره به ورکړی دوی ته رب (بدله) دَعملونو دَ دوئ یقیناً اللّٰه تعالیٰ دَ دوئ په عملونو خبردار دے (۱۱۱) پس ټینګ اُوسه (په دین) لکه څنګه چه تاته حکم کړے شویدے اوهغه څوك (هم) چه گرځیدلی دی (اللّٰه تعالیٰ ته) ستاپه تابعداری کښ او دَ حدنه مه تیریږئ یقیناً اللّٰه تعالیٰ ستاسو عملونو لره ښه لیدونکے دے (۱۱۲) اومه ګکیږئ هغه کسانوته چه ظلم ئے کړیدے پس اوبه رسی تاسوته اُور اونه به وی تاسولره سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه

[۱۰۹] هرکله چه یره دَمشرکینو اوبشارت دَ مؤحدینو ذکرشونودَ هغے نتیجه دا شوه چه شرك باطل دے دَ هغے په بطلان کښ شك مه کوئ۔ دَ آیت دوه مطلبه دی یودا چه په توحیدکښ شك مه کوه دَ وجے دَعبادت دَ مشرکینونه غیر اللّٰه لره څکه چه دَ دوی داعبادت دَ دوی دَمشرانوپشان بے دلیله دے صرف دَتقلیدپه طورسره دے، دویم داچه شك مه کوه په بطلان دَعبادت کولودَغیراللّٰه کښ﴿وَاِنَّا لَمُوَفُّوْهُمْ﴾ داجواب دَسوال دے هرکله چه دا شرك باطل اوبے دلیله کار دے نودے مشرکانوته به روزی او مالونه وغیره نه ملاویدلے؟ جواب او شو چه دے دنیا کښ دَ دوی حصه ده په طریقه دَ ابتلاء به دوی ته ورکیدے شی یا دَ نصیب نه مراد حصه دَ دوی ده دَ عذاب نه۔

[۱۱۰] دا جواب دَ بل سوال دے چه دا شرك باطل او بے دلیله دے نو دوی ته عذاب ولے نه راځی ؟ دَ جواب حاصل دا دے چه داسے بنی اسرائیلو هم په کتاب دَ اللّٰه کښ اختلاف کړے وؤ څوك مشرك شول او څوك مؤحد لیکن عذاب ترینه روستو شوے وؤ دَ وجے دَ حکمت نه ﴿وَاِنَّهُمْ لَفِيْ شَكٍّ مِّنْهُ﴾ یومعنیٰ دا ده چه دغه بنی اسرائیل دَ وجے دَ اختلاف نه په خپل کتاب کښ پیر شکیان شول ۔ دویمه معنیٰ دا ده چه دغه بنی اسرائیل دَ دے اختلاف دَ وجے نه په قرآن کښ شك کوونکی شول۔

[۱۱۱] دا جواب دَ بل سوال دے هر کله چه دوئ له عذاب په دنیا ورنکړے شونودوی به معاف وی۔ جواب او شو چه په ورځ دَ آخرت به هر یو له پوره عذاب او جزا ورکیدے شی ۔ (ترکیب) کُلاً ، اسم دے دَ اِنَّ دپاره او لَمَّا شرطیه دے شرط ئے پټ دے یُبعثنَّ او لَیوفینهم ، ئے جزاء ده ۔ شرط سره دَ جزاء نه خبر دے دَ اِنَّ دپاره ، او په بل قراءة کښ لَمَّا په تنوین سره دے په معنیٰ دَ جمیعاً نو تاکید دے دَ کُلاً او لَیوفینهم خبر دے دَ اِنَّ دپاره۔

[۱۱۲] دَ دے آیت نه تر اخرد سورة پورے دریم باب دے په دے کښ تشجیع اوتسلی ده رسول او دعوت کوونکو ته په پنځو امورو سره۔ درے اوامر او دوه نواهی، بیا سبب دَ عذاب بیان کړے شو، بیا حکمت

مِنْ اَوْلِيَآءَ ثُمَّ لَا تُنْصَرُوْنَ ﴿۱۱۳﴾ وَاَقِمِ الصَّلٰوةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِّنَ الَّيْلِ ؕ اِنَّ الْحَسَنٰتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّاٰتِ ؕ ذٰلِكَ ذِكْرٰى لِلذّٰكِرِيْنَ ﴿۱۱۴﴾ وَاصْبِرْ فَاِنَّ اللّٰهَ لَا يُضِيْعُ اَجْرَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۱۱۵﴾ فَلَوْلَا كَانَ مِنَ الْقُرُوْنِ مِنْ قَبْلِكُمْ اُولُوْا بَقِيَّةٍ يَّنْهَوْنَ عَنِ الْفَسَادِ فِى الْاَرْضِ اِلَّا قَلِيْلًا مِّمَّنْ اَنْجَيْنَا مِنْهُمْ ۚ

هیڅوك بچ کوونکی دوستان بیابه مددهم نه شی کیدے تاسو سره (۱۱۳) او پابندی کوه دَمونځونو په دواړو طرفونو دَورځے اوپه اولنی ساعتونو دَشپه کښ یقیناً ښه عملونه بوزی بدو لره دا نصیحت دے دپاره دَنصیحت قبلوونکو (۱۱٤) او صبر کوه پس یقیناً اللّٰه تعالیٰ نه بربادوی ثواب دَ ځائسته عمل کوونکو (۱۱۵) پس ولے نه وو دَهغه پیړونه چه ستاسونه پخواوے پوهے والا خلق چه منع ئے کوله دَ ګناهونو نه په زمکه کښ مګر لږ کسان دَهغه کسانونه چه بچ کړل مونږ هغوئ دَ دوی نه

دَعذاب دَ روستو کیدلو بیان شو بیا زجر او تخویف دے، بیا فائدے دَ قصو دَ انبیاؤ بیان شوے بیا برائت او آخری آیت خلاصه دَ سورة ده۔ په دے آیت کښ اول امر دَ استقامت دے نبی ﷺ ته او بیا امت ته او بیا نهی دَ طغیان نه ځکه چه طغیان منافی دَ استقامت دے اواستقامت دَ اللّٰه تعالیٰ په ټولو حکمونو باندے پوره عمل کول دی په داسے طریقه چه دَ هغے نه یو خوا بل خوا نه اوړی او ﴿كَمَآ اُمِرْتَ﴾ کښ دا فائده ده چه استقامت دَ اللّٰه تعالیٰ دَ امر په مطابق پکار دے دپاره دَ دے چه په شرك او بدعت او ناروا کارونو پوخ اودریدل دَ دے نه بهر شي ۔او استقامت شرعی پیر ګران کار دے دَ دے وجے نه دَ ابن عباس رضی اللّٰه عنهما روایت دے چه رسول اللّٰه ﷺ فرمائیلی دی چه (شَيَّبتنی سورة هود واخواتها) ځکه سورة هود اودَ دے په شان سورتونو بوډا کړم۔

فائده: هرکله چه صحابه او نور امتیان په استقامت کښ نبی ته نه شی رسیدلے دَ دے وجے نه هغه ئے په طریقه دَ عطف سره ذکر کړل۔ او طغیان نه مراد دَ حد دَشرعے نه تجاوز کول دی ۔ او هغه په شرك او په بدعت سره کیږی نو دَ هغے نه ئے منع او کړه۔

[۱۱۳] پدے آیت کښ په استقامت باندے دَ باقی پاتے کیدلو دپاره ئے منع او کړه دَ میلان کولو نه ظالمانوته او دا دریم ادب دَ داعی دے او دَ دے نه مراد دا دے چه مشرکانو مبتدعینواودهریانواودنیا پرستواشرارو سره شرکت په مجلسونو کښ اومخالطت او دوستانه مه کوئ۔ دا سبب دَعذاب الٰهی دے۔ رکون نه مراد دا دے چه ظالمانو طرف ته داسے مائل شی چه دَ هغوی دَ ګناه اثر په تاکښ ښکاره شی او دَ هغوی دَ ګناه تائید او کړے شی ځکه چه رکون دلالت کوی په تقویت باندے۔

[۱۱٤] په دے آیت کښ امرد مونځونو کولو دے په پنځه اوقاتو کښ اودَ هغے دوه فائدے ئے بیان کړیدی اودا ځلورم ادب دے طَرَفَيْن دَ ورځے نه مراد صبا اوماځیګردے اوما سپښین پکښ هم داخل دے ځکه چه طرف نصف ته هم وئیلے کیدے شی او ﴿زُلَفًا﴾ کښ ماښام اوماسخوتن داخل دے۔ زلف نزدیکت ته وائي یعنی هغه حصے دَ شپے چه ورځے ته نزدے وی اول دا چه نمرپټ شی دویم دا چه شفق پټ شی ﴿اِنَّ الْحَسَنٰتِ﴾ په دے کښ اوله فائده ذکر کوی هغه داچه مونځونه په ځائسته طریقه کولوسره ګناهونه معاف کوی اودَ ګناهونو نه بچ کول کوی او دَ بدو صفتونواونومونونه ساتنه کوی ﴿ذٰلِكَ ذِكْرٰى﴾ دا دویمه فائده ده چه مونځ کوئ دا

وَاتَّبَعَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مَآ اُتْرِفُوْا فِيْهِ وَكَانُوْا مُجْرِمِيْنَ ﴿۱۱۶﴾ وَمَا كَانَ رَبُّكَ لِيُهْلِكَ الْقُرٰى بِظُلْمٍ
وَّاَهْلُهَا مُصْلِحُوْنَ ﴿۱۱۷﴾ وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ لَجَعَلَ النَّاسَ اُمَّةً وَّاحِدَةً وَّلَا يَزَالُوْنَ مُخْتَلِفِيْنَ ﴿۱۱۸﴾
اِلَّا مَنْ رَّحِمَ رَبُّكَ ؕ وَلِذٰلِكَ خَلَقَهُمْ ؕ وَتَمَّتْ كَلِمَةُ رَبِّكَ لَاَمْلَـَٔنَّ جَهَنَّمَ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ

او اولږیدل هغه کسان چه ظلم ئے کړے وو (په مینه) ډهغه مال کښ چه مست کړے شویؤو په هغے کښ او دوئ ووجرمونه کوونکی(۱۱٦) اونه دے ستا رب چه هلاك کړی کلو والا په وجه ډظلم ډهغوئ اوحال داچه اوسیدونکی ډهغے اصلاح کوونکی وی (۱۱۷) اوکه غوختلے ستارب خامخا ګرځولے به ئے وے خلقو لره یوه ډله اوهمیشه به دوئ اختلاف کوونکی وی(۱۱۸) مګر هغه څوك چه ستا رب په هغوئ رحم اوکړی او ډ دے دپاره ئے دوئ پیداکړی دی اوپوره شوے ده فیصله ډ رب ستا خامخا به ډك کړم جهنم لره ډ پیریانو او انسانانو نه

ذکر دے او ډ نصیحت دپاره مجموعه ده او ډیاداشت ډ اللّٰه دپاره ذریعه ده۔

[۱۱۵] په دے آیت کښ پنځم ادب ذکرشواوهرکله چه دا ټول صفتونه په انسان کښے جمع شی نوهغه ته محسن وائي۔

[۱۱٦] هرکله چه تیر شوی ایاتونو کښ ډ دعوت کوونکی ذمه واری ئیے ذکرکړه نو په دے ایت کښ ډ دعوت ډ پریخودلو ناکاره نتیجه ذکر کوی چه سبب ډ عذاب دے ۔ یعنی په تیر شوو قومونو عذابونه ډ دے وجے نه راغلل چه ډ هغوی هوښیارو خلقو نهی عن المنکر نه کوله او کومو لږوکسانو چه کوله هغه اللّٰه تعالیٰ ډ دوی نه بهر ویستل ﴿اُولُوْا بَقِيَّةٍ﴾ په معنیٰ ډ خیر او فضل (علم) او اصحاب الرائ دے ﴿وَاتَّبَعَ الَّذِيْنَ﴾ دا دویم سبب ډ عذاب دے۔

[۱۱۷] په دے ایت کښ ډ دعوت ډکولوفائده ئیے ذکرکړه ځکه چه مصلحین نه مراد ډعوت حق کوونکی دی یعنی عادت الٰهیه جاری دے چه څو پورے په یوکلی کښ دعوت کؤنکی موجود وی نوهغه کلی لره ډ هغوی ډ شرك وغیره په وجه باندے عذاب نه ورکوی داسے په سورة انعام (۱۳۲)کښ هم تیر شویدی۔ نو ډ اَهْلُهَا نه مراد بعض اهل دی یعنی دعوت کؤنکی ډ حق او بعضو مفسرینو لیکلی دی چه مراد ډ اهل نه کافران دی او مراد ډ مصلحون نه اصلاح کول ډ معاملاتو دی یعنی داچه صرف په شرك باندے عذاب استیصالی نه ورکوی تردے پورے چه هغوی ظلمونه شروع کړی۔

[۱۱۸] په ایت کښ اشاره ده دے ته چه ډ مصلحینو کارډ اللّٰه تعالیٰ ډ مشیت نه بغیرفائده نشی ورکولے هرکله چه اللّٰه تعالیٰ اراده ډ دے نه ده کړے چه ټول خلق به په یو دین جمع شی ډ دے وجے نه خلق په مختلفو دینونواو ډلوکښ تقسیم شویدی او مراد ډ دے اختلاف نه اختلاف ډ باطل پرستو دے په کورنئے کښ چه هره ډله په باطله باندے وی۔

اَجْمَعِيْنَ ﴿۱۱۹﴾ وَكُلًّا نَّقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ اَنْۢبَآءِ الرُّسُلِ مَا نُثَبِّتُ بِهٖ فُؤَادَكَ ۚ وَجَآءَكَ فِيْ هٰذِهِ
الْحَقُّ وَمَوْعِظَةٌ وَّذِكْرٰى لِلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۲۰﴾ وَقُلْ لِّلَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ اعْمَلُوْا عَلٰى مَكَانَتِكُمْ ۭ اِنَّا
عٰمِلُوْنَ ﴿۱۲۱﴾ وَانْتَظِرُوْا ۚ اِنَّا مُنْتَظِرُوْنَ ﴿۱۲۲﴾ وَلِلّٰهِ غَيْبُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَاِلَيْهِ يُرْجَعُ الْاَمْرُ كُلُّهٗ فَاعْبُدْهُ
وَتَوَكَّلْ عَلَيْهِ ۭ وَمَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۲۳﴾

پہ یوځائے (۱۱۹) اوهریولره بیانوو مونږ په تاباندے دَخبرونو دَرسولانونه هغه چه کلکوو په هغے سره زړه ستا اوراغلے دے تاته په دے قصو کښے حق بیان او نصیحت او یاداشت دپاره دَ مؤمنانو (۱۲۰) او اُوایه هغه کسانوته چه ایمان نه لری عمل کوئ تاسو په خپله طریقه باندے یقیناً مونږهم عمل کؤو(په خپلے طریقے سره) (۱۲۱) او انتظار کوئ مونږ هم انتظار کوونکی یُو(۱۲۲) اوخاص اللّٰه تعالیٰ لره دے (علم او اختیار) دَ پټوځیزونو دَ آسمانونو او دَزمکے اوخاص هغه ته گرځولے به شی کارونه ټول پس بندگی کوه خاص دَ اللّٰه تعالیٰ اوځان سپاره په هغه باندے اونه دے ستا رب غافل دَهغه عملونو چه کوئ ئے تاسو(۱۲۳)

[۱۱۹] دَ دے نه مرادمؤمنان مؤحدین دی چه په دوی کښ اختلاف دَ عقیدے او اصولی اختلاف نیشته۔ او فرعی اختلاف په حقیقت کښ اختلاف نه دے بلکه حقیقت او فراخی ده ﴿رَحِمَ رَبُّكَ﴾ مراد دَ رحمت نه توفیق دَ هدایت اودَ حق دے ﴿وَلِذٰلِكَ خَلَقَهُمْ﴾ اشاره ده اختلاف او رحمت دواړوته یعنی څوك ئے دَ اختلاف دپاره اوځوك ئے دَ رحمت دپاره پیدا کړی دی اوپدے کښ اشاره ده تقدیر ته ﴿لَاَمْلَئَنَّ﴾ یعنی بغیردَجن اوانس نه په کښ بل څه نه اچوی۔ لَاَمْلَئَنَّ، تفسیر دَ كَلِمَةُ، دے او دا دلیل دے چه دَ جهنم اودَ جنّت دپاره دَ انسانانواودَجناتو تقدیر دَ وړاندے نه شویدے اوپه دے کښ ډیر احادیث صحیحه راغلی دی او الجنة والنّاس نه مراد هغه مختلفین دے۔

[۱۲۰] هرکله چه مخکښ آیت کښ اختلاف او بیا تخویف بیان شو نو دے آیت کښ دفع دَ عذر دَ خلقو کوی په رالیږلو دَ رسولانوسره اوپه دے آیت کښ ئے دَ قصودَ رسولانوځلور فائدے بیان کړیدی۔ اول تثبت، دَ زړه په ذکردَ مصائیبودَ انبیاؤ سره۔ دویم اَلْحَقُّ، یعنی توحید او صحیح عقیدے او اعمال۔ دریم مَوعِظَةٌ، یعنی تخویف اوزجردَ منهیاتونه۔ څلورم ذِکرٰی، یعنی اداب او طریقے دَ دعوت کولو۔ او هرکله چه په دے سورة کښ دا قصے تیرے شوے وے نو ځکه ئے دلته دَ هغے فائدے ذکر کړے۔

[۱۲۲،۱۲۱] روستو دَ تفصیلی بیان نه اودَ فائدو دَ قصونه اعلان دَ برائت دے ﴿اِنَّا عَامِلُوْنَ﴾ دَ دے نه مراد کار دَ دعوت دے ځکه چه دَ نبی عمل دعوت الی التوحید دے۔

[۱۲۳] په دے آیت کښ اعاده دَ مقاصدو دَ دے سورة ده په اولو دواړو جملو کښ رد دَ شرك فی العلم او شرك فی التصرف دے په دریمه جمله کښ رد دَ شرك فی العبادت دے په څلورمه جمله کښ تشجیع ده او په پنځمه جمله کښ تسلی ده۔

سُوْرَةُ يُوْسُفَ (۱۲) مَكِّيَّةٌ (۱۵۳) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۱۱۱ رُكُوْعَاتُهَا ۱۲

الٓرٰ قف تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ۝۱ اِنَّآ اَنْزَلْنٰهُ قُرْءٰنًا عَرَبِيًّا لَّعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ۝۲ نَحْنُ نَقُصُّ

الٓرٰ، داآیتونه دَ داسے کتاب دی چه صفا صفا بیان کوی(۱) یقیناً نازل کړے دے مونږ دا کتاب قرآن په واضحه ژبه د پاره دَ دے چه تاسو پوهه شئ (۲) مونږ بیانوو

سورة یوسف

ربط: دَ سورة یوسف دَ سورة هود سره دادے چه په سورة هود کښ ذکر دَ مصیبتونو دَ پردو خلقو دَ طرف نه په دعوت کوونکی دَ توحید باندے وواوپه دے سورة کښ ذکردَ مصیبتونو دے دَ ورونړودَ طرف نه په داعی دَتوحید باندے،دویم ربط دا دے چه دا سورة تفصیل او تفسیر دے دَ اخری ایت دَ سورة هود۔

دعویٰ دَ دے سورة: دَ دے سورة درے دعوے دی ؛ اوله دعویٰ داچه ثابتول دَ توحید دی په پنځو طریقو سره اوله طریقه رد دَ شرك په علم کښ یعنی چه یعقوب علیه السلام عالِم نه ووډځامنو په مکرونو اونه په حال دَ یوسف علیه السلام په کوهی کښ اونه په جیل کښ، اونه په حال دَ عزت اواقتدارکښ دَ (۸) نه تر(۱۱) پورے او (۱۵) او(۸۷)کښ۔ دویمه طریقه رد دَ شرك دے په تصرف کښ چه یعقوب علیه السلام هیڅ ضررنه شو دفع کولے نه دَ یوسف علیه السلام نه اونه دَ نورو ځامنونه (۱۸،۲۱،۳۹،۴۰،۶۷، ۱۰۱) اودریمه طریقه رد دَ شرك دے په بندګئ کښ(۴۰) اوځلورمه طریقه رد دے په ټولواقسامودَ شرك باندے (۱۰۶، ۱۰۸) اوپنځمه طریقه ذکردَ پنځلس اسماءِ حسنیٰ دَ اللّٰه تعالیٰ دے ۔

دویمه دعویٰ: ریښتینوالے دَ رسول ثابتول دی په دوو طریقو سره۔ اوله طریقه په ذکردَ وحی سره دے نبی کریم ﷺ ته (۳) کښ۔ دویمه طریقه، چه دا نبی ﷺ حاضر ناظرنه وو(۱۰۲) کښ۔

دریمه دعویٰ: تسلی ورکول دی رسول اللّٰه ﷺ ته په بیان دَ صبردَ یعقوب علیه السلام اودَ یوسف علیه السلام په تفصیل دَ دے واقعے سره اوپه ایت (۱۱۰) کښ هم ۔

خلاصه دَ سورة : په دے سورة کښ تر ایت (۷) پورے تمهید دے اوبیا ذکر دَ دولس مقاماتو دَ واقعے دَ یوسف علیه السلام دے ۔ اوپه اخر کښ ذکر دَ شپږو خبرو دے۔

تفصیل دَخلاصے دادے:تمهید تر اُوم ایت پورے دے اول ریښتینوالے دَ قرآن دَ پاره دَ ترغیب(۱،۲) کښ دویم ذکردَ صدق دَ رسول (۳)کښ اودریم ذکر دَ سبب دَ واقعے دَ یوسف علیه السلام دے چه هغه خوب لیدل دَ هغه دی او دَهغے ادب اودَ هغے نتیجے ذکرکول دی په (۴،۵،۶) کښ ۔

تفسیر

[۱] په دے ایت کښ بیان دَ صدق دَ کتاب اللّٰه دے او مراد په ﴿الْمُبِيْنِ﴾ سره دادے چه پخپله هم واضح دے او وضاحت کوونکے دے دَ حق او دَ باطل اوتِلك کښ اشاره ده دے سورة ته۔

[۲] په دے ایت کښ هم صدق دَ قرآن دے په دریو طریقوسره اول دا چه اللّٰه تعالیٰ نازل کړے دے دویم داچه جمع کړے شویدے ځکه چه قرآن مجموع ته وائي اودَ لوستلو دپاره دے او دریم داچه واضح بیان

عَلَيْكَ اَحْسَنَ الْقَصَصِ بِمَآ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ هٰذَا الْقُرْاٰنَ ۚ وَاِنْ كُنْتَ مِنْ قَبْلِهٖ لَمِنَ الْغٰفِلِيْنَ ۝

په تاباندے ډیر خائسته بیان په دے وجه چه مونږ وحی شروع کړیده تاته دَ دے قرآن او اګرچه ته وے دَ دے دَراتلونه مخکښ دَ بے خبرونه (۳)

والا دے ځکه چه عربی په اصل کښ واضح ته وائي اوپه دے ایت کښ ذکر دَ فائدے دَ انزال دَ قرآن دے په ﴿لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ﴾ سره۔ مراد دَ دے دا دے چه ځان پوهه کړئ په حقانیت دَ قرآن او په معانی دَ دهٔ اوپه حکمتونو دَ دهٔ ﴿قُرْءٰنًا عَرَبِيًّا﴾ دا دلیل دے په دے خبره باندے چه په قرآن کښ عجمی الفاظ نیشته۔ دارنګ که عجمی پکښ وی نو معلومه به شی چه اللّٰه تعالیٰ په دغه ځائے کښ دَ عربی لفظ نه عاجز وو اودَعجزنه خواللّٰه تعالیٰ پاك دے اوکوم چه دَ ابن عباس رضی اللّٰه عنهما روایت دے چه قسطاس، سجل وغیره الفاظ عجمی دی دَهغے مقصد دا دے چه دا الفاظ دَ عربونه عجموایزده کړل اوبیا عربونه استعمالول اوپه عجموکښ مشهور شول۔

[۳] په دے ایت کښ بیان دَ صدق دَ رسول دے او دے ته احسن القصص په دے وجه وائي چه پدے قصه کښ حکمتونه او احکام او مسائل بے شماره دی۔ دَ بعضو تفصیل دا دے:

[ا] دَ عقیدے مسائل پکښ دا دی انبیاء علیهم السلام:

(۱) غیب دان نهٔ دی، (۲) دوی دَ خپل اولاد نه اودَ بل چانه هم هیڅ تکلیف نشی دفع کولے۔ (۳) دَ اللّٰه تعالیٰ دَ قضا دَ قدرت څوك مقابله نشی کولے۔(٤) دَ عام مشرکینو تردید په رد دَ (٥) شرك فی العبادت، (٦)شرك فی الاسماء، (۷) شرك فی التصرف۔ (۸) شرك فی الربوبیت سره، (۹) او اختلاط دَ شرك ایمان برباد وی۔

[ب] دَ عمل صالح مسائل پکښ دا دی:

(۱۰) صبر کول (۱۱) دَ اللّٰه تعالیٰ نه مدد غوښتل (۱۲) په معصیت باندے مصیبت غوره کول، (۱۳) دَ معصیت نه په اللّٰه تعالیٰ سره پناهی غوښتل (۱٤) دَ معصیت نه تیښته کول،(۱٥) دَ خپل ځان نه بدنامه دفع کول (۱٦) دَ اللّٰه تعالیٰ په ښودلے شوی تدبیرونوعمل کول (۱۷) دَ صالح اولاد سره محبت کول او دَ هغی حتی الوسع حفاظت کول۔

[ت] ناکاره اعمال او دَ هغے ناکاره نتیجے پکښ دا ذکر دی:

(۱۸) حسد کول او عاقبت ئے ناکامی (۱۹) دَ پلار سره کید او مکر کول، (۲۰) پلارته دروغ بهانے کول، (۲۱) دَ رورسره کیدکول (۲۲) رورته تکلیف ورکول اوپه هغه باندے ظلم کول (۲۳) دَ ښځو مکرونه کول دَ نارینۂ سره (۲٤) اوپه کورنئی کښ یوبل باندے طعنونه وئیل (۲٥) دَ پردی سړی سره عشق کول (۲٦) اودَ هغهٔ نه دَ بدکارئ طلب اوکوشش کول (۲۷) په دروغه باندے جړا کول (۲۸) دَچا دَ دهوکه کولو دَ پاره حیلے جوړول، (۲۹) ازاد خلق خرڅول۔

[ج] نیك اخلاق پکښ دا دی:

(۳۰) دَمولی سره ښه اخلاق چلول اودَ هغه احسانات منل (۳۱) دَ هغه په کورکښ دَ خیانت کولونه

اِذْ قَالَ يُوْسُفُ لِاَبِيْهِ يٰٓاَبَتِ اِنِّيْ رَاَيْتُ اَحَدَ عَشَرَ كَوْكَبًا وَّالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ رَاَيْتُهُمْ لِيْ سٰجِدِيْنَ ۝٤
قَالَ يٰبُنَيَّ لَا تَقْصُصْ رُءْيَاكَ عَلٰٓى اِخْوَتِكَ فَيَكِيْدُوْا لَكَ كَيْدًا ۭ اِنَّ الشَّيْطٰنَ لِلْاِنْسَانِ عَدُوٌّ

هرکله چه اُوئیل یوسف(علیه السلام) خپل پلارته اے پلاره ځما یقیناً ما اولیدل (په خوب کښ) یوولس ستوری او نمر اوسپوږمئ اومے لیدل دوئ ماته ښکته کیدونکی (٤) اوئیل هغه اے بچیه مه بیانوه دا خوب دے رونړو ته پس څه چل به جوړ کړی ستا دَ ضرر دپاره چل یقیناً شیطان دَ انسان دپاره دُشمن ځان بچ کول (۳۲) عفت کول (۳۳) دَ جیل دَملګرو سره احسانونه کول،(۳٤) هغوی ته دَحق دعوت ورکول(۳۵) خطائی کوونکوته معافی کول پس دَمعافئی کولونه (۳٦) په تقسیم کښ دَخیانت نه ځان بچ کول (۳۷) دَغیر مجرم دَ سزانه ځان ساتل (۳۸) مجرم مخامخ نه ملامته کول (۳۹) دَ هغه دَپاره استغفار غوښتل۔

[ح] مختلف احوال او اقسام دَ اشیاؤ:

(٤۰) خوبونه لیدل اودَ هغے اقسام (٤۱) دَکیدونو اقسام (٤۲) دَ محبت کولو اقسام (٤۳) دَ ژړاکولواقسام (٤٤) دَ نفس اقسام،(٤۵) دَ عقل والواقسام، بشر، ملك، شیطانان (٤٦) دَ ابادو اقسام، مصر، بدو، غیابة الجب (٤۷) دَ قیمتونواقسام، ثمن، بضاعة، دراهم (٤۸) دَ لوښواقسام سقایه، صواع، وعاء، کیل (٤۹) دَ رنړا والا اشیاؤاقسام، شمس، قمر، کواکب (۵۰) دَ عدد بعض اقسام، سبع، احد عشر(۵۱) دَحیواناتواقسام، ذئب، بقر، طیر، بعیر،(۵۲) دَخوراك ځینکاك دَ ځیزونواقسام، خبز، خمر، سنبلات،(۵۳) دَ قافلو انتظام، سیاره، وارد،(۵٤) دَ اوقاتوذکر، غد، عشاء۔

[خ] دَ سیاست اودَ تاریخ ذکر:

(۵۵) ملك، (۵٦) عزیز، (۵۷) وزیرخزائن، (۵۸) طریقه دَ تقسیم دَ راشن، (۵۹) دَ خپلوانوسره احسان کول، (٦۰) سبب دَ انتقال دَ بنی اسرائیلو دَ شام نه مصرته۔

دَ دے نه علاوه نورهم ډیر حکمتونه او فائدے دی چه په تدبر سره معلومیږی ۔ او دَ اللّٰه تعالیٰ دَحکمتونو انتها نشی کیدلے ﴿لَمِنَ الْغٰفِلِيْنَ﴾ دا دلیل دے چه علم دَ نبی ﷺ په ذریعه دَ قرآن او دَ وحی سره دے۔

[٤] په دے ایت کښ ذکردَ خوب لیدلودَ یوسف علیه السلام دے چه هغه سبب دَ روستوواقعے اوګرځیدو۔ دا ایت دوه کرته استعمال دے اول متعلق دے دَ ذات دَ ستورو سره او دویم متعلق دے دَ هغوی دَ حال سره۔ په یوولس ستورو کښ اشاره ده رونړو دَ یوسف علیه السلام ته ځکه چه ستوری کښ رنړا کمه وی ۔ نو دا رنګے په دوی کښ پس دَ توبے ویستلونه لږنور دَ هدایت راغلے وو۔ اوپه (شمس) کښ اشاره ده پلارته لکه ځنګه چه رنړا دَ شمس کامله وی نو دغه رنګ نور دَ نبوّت کامل دے اوپه قمرکښ اشاره ده مور دَ یوسف علیه السلام ته لکه ځنګه چه رنړا دَ سپوږمئ درمیانه وی نو دغه رنګ نوردَ ولایت دَ مور دَ یوسف علیه السلام درمیانه وو۔ اوبعضو علماؤ بر عکس وئیلی دی ځکه چه شمس مؤنث دے او قمر مذکر دے لیکن دلته اعتبار په باره دَ رنړا سره دے نه په اعتباردَ الفاظو سره نو اول قول غوره دے۔

مُّبِيْنٌ ۝٥ وَكَذٰلِكَ يَجْتَبِيْكَ رَبُّكَ وَيُعَلِّمُكَ مِنْ تَاْوِيْلِ الْاَحَادِيْثِ وَيُتِمُّ نِعْمَتَهٗ عَلَيْكَ وَعَلٰٓى
اٰلِ يَعْقُوْبَ كَمَآ اَتَمَّهَا عَلٰٓى اَبَوَيْكَ مِنْ قَبْلُ اِبْرٰهِيْمَ وَاِسْحٰقَ ؕ اِنَّ رَبَّكَ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ۝٦ لَقَدْ ع ۴
كَانَ فِيْ يُوْسُفَ وَاِخْوَتِهٖٓ اٰيٰتٌ لِّلسَّآئِلِيْنَ ۝٧ اِذْ قَالُوْا لَيُوْسُفُ وَاَخُوْهُ اَحَبُّ اِلٰٓى اَبِيْنَا مِنَّا وَنَحْنُ

بنکاره دے (٥) او دغسے به غوره کړی تاله ستارب اوبه ښائی تاته حقیقت دَ خبرو اوپوره به کړی خپل احسان په تاباندے اوپه اولاد دَیعقوب(علیه السلام) باندے لکه چه پوره کړے دے احسان ستا په نیکونو دَ دے نه مخکښ چه ابراهیم(علیه السلام) او اسحاق(علیه السلام) وو یقیناً ستارب په هرڅه پوهه او حکمت والا دے (٦)په تحقیق شته په قصه دَ یوسف(علیه السلام) اودَ رونړو دَ هغه کښ عبرتونه دی دَ تپوس کوونکو دپاره (٧) هرکله چه دوی اُوئیل ضرور یوسف او دَهغه خپل ورور زیات خوښ دی ځمونږ پلارته ځمونږ نه او حال داچه مونږ

[٥] په دے ایت کښ ادب ښودل دی یوسف(علیه السلام) ته په باره دَ خوب دَ هغه کښ چه دا خوب پټ اوساته ـ او په دے کښ اشاره ده دے ته چه یعقوب(علیه السلام) په تعبیر دَ دے خوب باندے پوهه شوے وو ـ او په دے ایت کښ ډیرے فائدے دی۔

اوله فائده دا ده ـ چه بعض خوبونه پټ ساتل پکار دی ـ

دویمه فائده داده۔ چه په هر مسلمان باندے لازم دی چه خپل مسلمان رورله تنبیه ورکړی دپاره دَ ځان بچ کولو دَ ضرر نه۔

دریمه فائده ـ کله چه دَ انسان نه ویره کیدے شی په باره دَ یو ضررکښ نودَ هغے ذکرکول بل چاته جائز دی او دا غیبت نه دے ځکه چه په دے کښ مقصود بالذات توهین دَ هغه سړی نه دے بلکه تنبیه نورو ته مقصد دے۔

څلورمه فائده۔ چه رونړه دَ یوسف علیه السلام انبیاء نهٔ وو ځکه چه حسدکول اومکرونه کول کبیره ګناهونه دی ـ او انبیاء علیهم السلام دَ ګناهونونه پاك وی او په دے باندے تفسیر ابن کثیر او تفسیر قرطبی تصریح کړے ده۔

[٦] په دے آیت کښ تسلی ورکول دی دَ یعقوب علیه السلام یوسف علیه السلام ته په درے څیزونوسره۔ اول اجتباء اومراد په اجتباء سره غوره کول دَ یوتن دی دپاره دَ لویو کارونوچه هغه دعوت دَ توحید دے او صبر دے په تکالیفو ـدویم څیز تعلیم دے دَ تاویل الاحادیث۔ په تاویل الاحادیث کښ دوه تفسیره دی اول داچه مراد دَ دے نه تعبیردَ خوبونودے دویم دا چه مراد دَ دے نه دلیلونه دَتوحید اوواقعات دَ امتونومخکنودی، اودریم څیز اِتمامِ نعمت دے اومراد دَ دے وحی او نبوت دے او مراد په ال یعقوب سره بنی اسرائیل دی ځکه چه په هغوی کښ ډیر پیغمبران رالیږلے شویدی ﴿وَكَذٰلِكَ﴾ کاف دَ پاره دَ تشبیه دے او مشبه به دغه خوب دے چه بیان شو یا کاف په معنیٰ دَ لام تعلیلیه سره دے ﴿اَبَوَيْكَ﴾ دادلیل دے چه د اب په نیکونو باندے اطلاق کیږی یوسف بن یعقوب بن اسحاق بن ابراهیم علیهم السلام ـ

[٧] په دے آیت کښ اشاره ده هغه فائدوته چه موجود دی په واقعه دَ یوسف علیه السلام کښ په ﴿اٰيٰتٌ لِّلسَّآئِلِيْنَ﴾ کښ دوه تفسیره دی اول تفسیر دا دے چه مراد دَ سائلین نه دَ مکے مشرکان دی ځکه چه

عُصْبَةٌ ؕ اِنَّ اَبَانَا لَفِیْ ضَلٰلٍ مُّبِیْنِ ۝۸ اقْتُلُوْا یُوْسُفَ اَوِ اطْرَحُوْهُ اَرْضًا یَّخْلُ لَكُمْ وَجْهُ اَبِیْكُمْ
وَتَكُوْنُوْا مِنْۢ بَعْدِهٖ قَوْمًا صٰلِحِیْنَ ۝۹ قَالَ قَآىِٕلٌ مِّنْهُمْ لَا تَقْتُلُوْا یُوْسُفَ وَاَلْقُوْهُ فِیْ غَیٰبَتِ الْجُبِّ

پوره ډله یو یقیناً زمونږ پلار په سادګئ ښکاره کښ دے (۸) اووژئ یوسف(علیه السلام) لره یائے اوغورځوئ یوملك ته نوخالی به شی تاسوته مخه ډپلار ستاسو اوشئ به ډ دے نه روستو نیکان خلق (توبه به اوکړئ)(۹) اُوئیل یوویونکی ډ دوئ نه مه وژنئ یوسف لره او واچوئ په ډ ډ ډکچه کوهی کښ

هغوی ډ رسول الله ﷺ نه تپوس کړے وو په خودنه ډ یهودیانو سره چه ډ بنی اسرائیلو اصلی وطن شام وو نو ډ موسیٰ علیه السلام په وخت کښ په مصرکښ څنګه اوسیدل؟ نوحاصل ډ جواب دا دے څنګه چه رونړو د یوسف علیه السلام ډحسد ډوجے نه یوسف علیه السلام لره ډ ملك نه اویستواوپه کوهی کښ درے ورځے پاتے شواوبیا بادشاهئی ته اورسید اوبیا رونړو ترے معافی اوغوښته اوهغه اُوفرمائیل چه (لاتثریب علیکم الیوم) اودوی ډ هغهٔ تابع شو۔ نو دا رنګے به مکے والا دا نبی ﷺ ډ کلی نه اوباسی او په غار کښ به درے شپے کوی او بیا به دا نبی غالب کیږی او دوی به ترینه معافی غواړی ۔ او هغه به جواب کوی چه (لاتثریب علیکم الیوم) او دوی به ډ هغهٔ تابع شی ۔ اوهم دغسے په فتح مکه کښ اوشول ۔ دویم تفسیر دا دے چه مراد ډ سائلین نه هغه خلق دی چه تحقیق کوی په واقعه ډ یوسف علیه السلام کښ اودډ هغے نه عبرتونه اوحکمتونه او ډیرے مسئلے را اوباسی۔

[۸] ډ دے آیت نه قصه ډ یوسف علیه السلام تفصیلاً شروع کیږی اوهغه په دولس مقاماتوتقسیم ده اول مقام تر ایت (۱۸) پورے دے، پدے مقام کښ ذکر کیږی مکرونه کول ډځامنو ډپلار سره په باره ډ یوسف علیه السلام کښ په پنځوطریقو سره۔ اول غائبانه مشوره کول ، دویم ډ پلار مخامخ ډ مکر خبرے کول، دریم په کوهی کښ غورځول، څلورم په دروغه ژړاکول او پنځم په قمیص په دروغه وینه لګول او په دے ټولوکښ ابتلاء ده په یعقوب علیه السلام او په یوسف علیه السلام باندے، پدے (۸) ایت کښ طعن کول ډ ځامنودی په یعقوب علیه السلام باندے په زیات محبت کولو ډ یوسف علیه السلام اودډ هغه ډ رور سره اوحکم کول دی په پلار باندے ډ یقینی غلطئی۔ اودا دواړه ګناهونه کبیره دی۔ زیات محبت ډ یعقوب علیه السلام ډ یوسف علیه السلام سره ډ وجے ډهغه خوب نه ووچه هغے دلالت کوو ډ یوسف علیه السلام په کمال باندے۔ او مراد ډ ضلال نه ضلال ډ دین نه دے ځکه چه نبی ته ډ دینی ګمراهئی نسبت کول کفروی لکه قرطبی اومدارك لیکلی دی۔ بلکه مراد ډ دے نه غلطی ډ تدبیر او سادګئ ده ۔ او دا تفسیر قرطبی ذکر کړی دی۔ پدے ایت کښ دلیل دے چه حسد انسان لره ډ پلار په بے عزتئے کولو اماده کوی۔

[۹] پدے ایت کښ ذکر ډ مشورے ډ رونړډ یوسف علیه السلام دے ډپاره ډ روکولوډ یوسف علیه السلام ډپاره ډ دے چه حاصل کړی دوی مینه اوتوجه ډ پلار خپل۔ پدے ایت کښ دلیل دے پدے خبره چه په باطلے طریقے سره جائز څیزحاصلول غلط کار دے دویم دلیل دے پدے خبره چه ګناه کول پدے ارادے سره چه روستو به توبه اوباسم ناجائز دی﴿وَجْهُ﴾ په معنیٰ ډ توجه دے یا په معنیٰ ډ ذات دے ﴿بَعْدِهٖ﴾ ضمیر قتل او طرح (غورځول) ته راجع دے ۔ دا دلیل دے چه حسد انسان لره په قتل ډ بل انسان او ډ هغه په روکولو باندے

يَلْتَقِطْهُ بَعْضُ السَّيَّارَةِ إِنْ كُنْتُمْ فٰعِلِيْنَ ﴿۱۰﴾ قَالُوْا يٰٓاَبَانَا مَا لَكَ لَا تَاْمَنَّا عَلٰى يُوْسُفَ وَإِنَّا لَهٗ لَنٰصِحُوْنَ ﴿۱۱﴾ اَرْسِلْهُ مَعَنَا غَدًا يَّرْتَعْ وَيَلْعَبْ وَإِنَّا لَهٗ لَحٰفِظُوْنَ ﴿۱۲﴾ قَالَ إِنِّيْ لَيَحْزُنُنِيْٓ اَنْ تَذْهَبُوْا بِهٖ وَاَخَافُ اَنْ يَّاْكُلَهُ الذِّئْبُ وَاَنْتُمْ عَنْهُ غٰفِلُوْنَ ﴿۱۳﴾ قَالُوْا لَئِنْ اَكَلَهُ الذِّئْبُ وَنَحْنُ عُصْبَةٌ إِنَّآ إِذًا

اوبه مومی بعض قافلے والا که تاسو داسے کوونکی یئ (نو اوکړئ)(۱۰) دوی اوئیل اے پلاره زمونږ څه وجه ده چه ته په مونږ باندے اعتبار نه کوے په باره دَیوسف کښ او یقیناً مونږ دَ دهٔ خامخا خیر خواه یُو (۱۱) دے پریږده زمونږ سره صبا چه اوخوری اولوبے اوکړی اویقیناً مونږ دَ دهٔ خامخا څوکئ کوونکی یُو(۱۲) اُوئیل پلار یقیناً خفه کوی مالره چه تاسو دے ځمانه بوزئ او یریږم چه اوبه خوری دهٔ لره شرمخ اوتاسو به دَ دهٔ نه ناخبره یئ (۱۳) اُوئیل دوئ که چرے اوخوړو دے شرمخ اوحال داچه مونږ پوره ډله یو یقیناً مونږ به دغه وخت

اماده کوی۔

[۱۰] پدے ایت کښ ئے ذکر کړے ده رائیے دَ مشر رور دَ یوسف علیه السلام چه قتل کول ډیر ظلم دے اوبل ملك ته بوتلل گران کار دے نو فیصله ئے اوکړه په دریمه خبره چه دَ لارے په غاړه په یوکوهی کښ ئے داسے اوغورځوئ چه مرنهٔ شی اوواپس هم نهٔ شی را وتلے اویوقافلے والا ئے ځان سره بوځی ﴿الْجُبِّ﴾ کچه کوهی ته وائي او ﴿غَيٰبَتِ﴾ ډ ډکمرته وائي۔ (غیابة) هرپټ ځائے ته وئیلے شی مراد دَ دے نه دا دے چه په اوبوسره دَکوهی په ویخ کښ کمراوخوړلے شی اوډ ډجوړ شی چه دَ نظرنه پټ وی او دَ اوبونه بره وی۔ ﴿يَلْتَقِطْهُ﴾ دلالت کوی په مسائلو دَ لقیط اودَ لقطه باندے چه دَ هغے تفصیل په کتابونو دَ حدیث او دَ فقهے کښ موجود دے دا دلیل دے چه حسد انسان لره په تکلیف ورکولو خپل رورته اماده کوی۔

[۱۱] پدے ایت کښ بیان دَ مکر دَ دوی دے دَ پلار مخامخ او ﴿وَإِنَّا لَهٗ لَنٰصِحُوْنَ﴾ دلالت کوی پدے خبره چه دوی یقیناً دروغژن وو۔ دَ دے وجے نه ئے زیات تاکیدونه کول دا دلیل دے چه حسد انسان لره په دروغو وئیلواماده کوی ابن اسحاق وئیلی دی چه دَ دوی داکارپه ډیروگناهونو باندے مشتمل وؤ۔ صله رحمی قطع کول، نافرمانی دَ مور اوپلار، په ورځو کی شفقت نه کول، په امانت کښ غدرکول، دَ عهدنه خلاف کول، دروغ وئیل او دا ټول دَحسد نتیجه وه۔

[۱۲] په دے آیت کښ طلب کول دَ دوی دی یوسف علیه السلام لره دَ پلار نه دَپاره دَ دے چه صحراء ته ئے بوځی او ﴿يَلْعَبْ﴾ کښ اشاره ده چه مباح لوبے کول په شرع کښ جائز دی۔ او په دے کښ دَ دوی حیله ذکر ده چه په هغے سره خپل مقصد حاصل کړی ﴿وَإِنَّا لَهٗ لَحٰفِظُوْنَ﴾ داهم دروغ وائي او وعده کوی په نیت دَ غدر سره۔

[۱۳] په دے ایت کښ ذکر دَ حُزن دَ یعقوب علیه السلام دے په جدائي دَ یوسف علیه السلام او ذکر دَ خوف دَ هغه دے په هلاکت دَ یوسف علیه السلام په دے احتمال سره چه شرمخ به ئے او خوری ځکه چه صحرا کښ شرمخان ډیروی۔ دا دلیل دے چه انبیاء علیهم السلام باندے هم حُزن او خوف دَ دنیا رائی او دا دَ اسبابودَ لاندے وی۔

لَخٰسِرُوْنَ ﴿۱۴﴾ فَلَمَّا ذَهَبُوْا بِهٖ وَاَجْمَعُوْٓا اَنْ يَّجْعَلُوْهُ فِيْ غَيٰبَتِ الْجُبِّ ۚ وَاَوْحَيْنَآ اِلَيْهِ لَتُنَبِّئَنَّهُمْ بِاَمْرِهِمْ هٰذَا وَهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۱۵﴾ وَجَآءُوْٓ اَبَاهُمْ عِشَآءً يَّبْكُوْنَ ﴿۱۶﴾ قَالُوْا يٰٓاَبَانَآ اِنَّا ذَهَبْنَا نَسْتَبِقُ وَتَرَكْنَا يُوْسُفَ

تاوانیان یو(۱٤) پس هرکله چه دوئ هغه لره بوتلواوپخه اراده ئے اوکړه چه واچوی هغه په ډ ډ ډکچه کوهی کښ او وحی اوکړه مونږ هغه ته خامخا خبربه ورکړے دوی ته (یوورځ) ډ دوئ ډ دے کاراو دوئ نه پوهیدل (۱۵)اوراغلل دوئ پلارته ډمابنام په تیاره کښ ژړائے کوله (۱٦) دوی اُوئیل اے پلاره زمونږ یقیناً مونږ تلی وو منډے مووهلے اوپریخودلے وو مونږ یوسف لره

[۱٤] پدے ایت کښ تاکید کول دی ډ رونړو ډ یوسف علیه السلام په باره ډ حفاظت ډ هغه کښ او دا جواب دے ډ دویم قول ډ یعقوب علیه السلام او ډ اول قول جواب ئے ځکه اونکړو چه هغه سبب ډ حسد او ډ غُصے ډ دوی وو ﴿عُصْبَةٌ﴾ کلك جماعت ته وئیلے شی چه کم از کم لس کسان وی او دوی هم سیوا ډ بنی یامین نه لس وؤ ﴿لَخٰسِرُوْنَ﴾ کښ اشاره ده چه مونږ ګڼے ییزے په صحرا کښ سَر وؤ او شرمخان نشو دفع کولے نوبیا خوبه ډیرتاوان والاشو خوداسے نه ده ډ رورنه خامخا ضرردفع کولے شو۔

[۱۵] پدے ایت کښ ذکر دے ډ اتفاق کولو ډ رونړو ډ یوسف علیه السلام په غورځولو ډ هغه په کوهی کښ ۔ نو دا دلیل دے پدے خبره چه په کولو ډ ډیرکسانوسره ګناه کول نه جائز کیږی ﴿فَلَمَّا ذَهَبُوْا بِهٖ﴾ ډ شرط جزاء محذوف ده یعنی فعلوا بِهٖ مافعلوا (اوکړه دوی هغه سره هغه څه چه اوکړل ئے) او مفسرینوذکرکړیدی چه په غارکښ درے ورځے وؤ ﴿وَاَوْحَيْنَآ﴾ مراد ډ وحی نه وحی ده ډ نبوت نه مخکښ او دے ته اِرهَاص وائي یا دا وحی حقیقةً وه اودا غوره قول دے ﴿وَهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ﴾ په دے کښ دوه تفسیره دی۔ اول تفسیر دا دے چه دا رونړه نه پوهیدل په وحی ډ یوسف علیه السلام او په لوئے والی ډ مرتبے ډ هغه ډویم تفسیر دا دے چه دوی به نه پیژنی یوسف علیه السلام لره کله چه هغه دوی له خبر ورکوی په مکرونو ډ دوی۔

[۱٦] په دے آیت کښ بیان ډ بل مکر ډ دوی دے ډ پلار خپل سره په دوو طریقوباندے اول په ناوخته راتللوډ دوی په نسبت ډ نورو ورځو ډ دے ډ پاره چه په تیاره کښ ډ دروغوډ ژړا پته اونه لږی اوچه پلارته معلومه شی چه دوی ډ دے واقعے ډ وجے نه بے وخته کړیدے اودویم په دروغه ژړاکول اوعلماؤ وئیلی دی چه دا آیت دلیل دے په دے خبره چه ژړا ډیوکس دلیل نه وی ډ هغه په صداقت باندے کیدے شی چه دا ژړا ډ مکروی ځکه چه ژړا لس قسمه ده او ابن قیم رحمة الله علیه په زادالمعاد صفحه (۱۸٤) کښ ذکرکړی دی چه اول قسم ژړا ډ رحمت اودَنرمئی ډ زړهٔ، دویم قسم ژړا ډ یرے اودَ خشیت ډ وجے نه، دریم قسم ژړا ډ محبت اودَ شوق ډ وجے نه، څلورم قسم ژړا ډ خوشحالئے ډ وجے نه ، پنځم قسم ژړا ډفریاد ډ وجے ډ درد او مرض نه، شپږم قسم ژړا ډ حزن اوغم ډ وجے نه، اُوم قسم ژړا ډ بزدلئے اوکمزوروالی ډ زړه نه، اتم قسم ژړا ډمنافقت اودَ ریاء چه سترګوکښ اوښکے راځی اوزړه ئے سخت وی اوخلقوته ډ ځان نه خشوع ښکاره کوی، نهم قسم ډاجرت اودَ مزدورئے ژړا لکه ژړا ډویرګرواولسم قسم ژړا ډموافقت ډ وجے نه چه څوك اُوینی چه هغه ژاړی نودے هم ورسره اوژاړی اوسبب ورته نه وی معلوم۔

عِنْدَ مَتَاعِنَا فَاَكَلَهُ الذِّئْبُ ۚ وَمَآ اَنْتَ بِمُؤْمِنٍ لَّنَا وَلَوْ كُنَّا صٰدِقِيْنَ ﴿۱۷﴾ وَجَآءُوْ عَلٰى قَمِيْصِهٖ بِدَمٍ
كَذِبٍ ؕ قَالَ بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ اَنْفُسُكُمْ اَمْرًا ؕ فَصَبْرٌ جَمِيْلٌ ؕ وَاللّٰهُ الْمُسْتَعَانُ عَلٰى مَا تَصِفُوْنَ ﴿۱۸﴾ وَجَآءَتْ
سَيَّارَةٌ فَاَرْسَلُوْا وَارِدَهُمْ فَاَدْلٰى دَلْوَهٗ ؕ قَالَ يٰبُشْرٰى هٰذَا غُلٰمٌ ؕ وَاَسَرُّوْهُ بِضَاعَةً ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِمَا
يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۹﴾ وَشَرَوْهُ بِثَمَنٍۭ بَخْسٍ دَرَاهِمَ مَعْدُوْدَةٍ ۚ وَكَانُوْا فِيْهِ مِنَ الزّٰهِدِيْنَ ﴿۲۰﴾ ع وَقَالَ الَّذِى اشْتَرٰىهُ

دَخپل سامان سره پس اوخوړو دهٗ لره شرمخ اوته زمونږ په خبره باورنه کوے اګرچه مونږ رشتیا وایو(۱۷) او (لږولے) راوړه دَهغه په قمیص باندے وینه دَ دروغو پلار اُوئیل بلکه جوړه کړے ده تاسوته ستاسونفسونو څه خبره پس صبر خائسته (ښه دے)او خاص دَ اللّٰه تعالیٰ نه مدد غوختلے شی په مقابله دَ دغه خبرو چه تاسو وائے(۱۸) اوراغله یوقافله پس دوئ اولیګو مشکی خپل پس زوړنده کړه هغه خپله بوقه نووے وئیل (اے ملګرو) په ستاسو باندے زیرے دے داخویوغلام دے اوپټ ئے اوساتلو دَتجارت په خیال او اللّٰه تعالیٰ دَ دوئ په عملونو ښه پوهه وو(۱۹) اوخرڅ کړو دوی هغه په قیمت بے کاره (حرامے) روپئ لګے دَشمار او دوئ وو په هغه کښ بے رغبته (۲۰) او اُوئیل هغه سړی چه واخستلوئے دے

[۱۷]په دے ایت کښ تسلی ورکول دَ دوی دی پلارخپل ته په دروغوبهانوسره ﴿نَسْتَبِقُ﴾ دلالت کوی په جوازدَ استباق په شرع کښ چه هغه دَ اسونودے یا دَ اوښانویا پَه خپوباندے وی اوپه غشو ویشتلوکښ هم استباق په حدیث کښ وارد دے ۔ په هغه شرطونو سره چه په حدیث کښ ذکر دی او مراد دَ استباق نه په دے ځائے کښ مقابله کول دی په تیزه منډه وهلوکښ ﴿مَتَاعِنَا﴾ یعنی په وخت دَ لوبو کولو او استباق کولو کښ زیاتی جامے اویستلے شی او یوځائے کښ کیخودلے شی نو دغه متاع مراد دے۔

[۱۸] په دے آیت کښ ذکرَدَ مکر دَ دوی دے په بلے طریقے سره چه دوی یوځاروے ذبح کړو اودَ هغه وینه ئے په قمیص دَ یوسف علیه السلام اولګوله لیکن قمیص ئے شلولے نهٗ وو نو په دے وجه یعقوب علیه السلام په خپل فراست سره پوهه شو چه که یوسف علیه السلام شرمخ خوړلے وے نوقمیص به ئے ورله شلولے وے نوځکه ئے اوفرمائیل (بل سَوَّلت الخ) ﴿فَصَبْرٌ جَمِيْلٌ﴾ صبرجمیل دے ته وائي چه په وخت دَ مصیبت کښ مخلوق ته شکایت نه کوی ۔ تضرُّع اوعاجزی کوی او دا دلیل دے په دے خبره چه صبر کول په مصیبتونو سنت دے دَ ټولو انبیاؤ علیهم السلام ﴿وَاللّٰهُ الْمُسْتَعَانُ﴾ دارد دے په شرك فی الاستعانت باندے یعنی دَ اللّٰه تعالیٰ نه سیوا دَ بل چانه مدد غوښتل دپاره دَ مصیبت لرے کولو یا حاجت پوره کولو شرك دے۔ او دارنګ په سورة انبیاء (۱۱۲) کښ ذکر دی او مبتدا او خبر دواړه معرفے دی دلالت کوی په حصر باندے۔

[۱۹] دَ دے ایت نه دویم مقام دے تر ایت (۲۱) پورے په دے کښ ذکر دَ نورومکرونو اوظلمونودَ هغوی دے دَ یوسف علیه السلام په غلام جوړولو اوپه خرڅولو دَهغه سره لیکن دَ دے ابتلاء سره ذکر دَ احسان دَ اللّٰه تعالیٰ دے په عزت ورکولو سره یوسف علیه السلام ته په کور دَ عزیز مصرکښ اوپه تمکین سره دے زمکه کښ۔ په دے (۱۹) ایت کښ ذکر دَ سبب دَ راوتلو دے دَ یوسف علیه السلام دَ کوهی نه او ابتلاء ده په یوسف علیه السلام په غلام ګرځولوسره ﴿سَيَّارَةٌ﴾ قافله چه دَ مدین نه مصرطرف ته روانه وه وَارِدُ یوتن وؤیا په معنیٰ دَ جنس دے وارِد هغه شخص وی چه ملګرو دپاره اوبه راوړی ﴿قَالَ﴾ دَ دے نه مخکښ لفظ پټ دے ۔ (فتثبّتَ بِهٖ

مِنْ مِّصْرَ لِامْرَاَتِهٖۤ اَكْرِمِیْ مَثْوٰىهُ عَسٰۤى اَنْ یَّنْفَعَنَاۤ اَوْ نَتَّخِذَهٗ وَلَدًا ؕ وَكَذٰلِكَ مَكَّنَّا لِیُوْسُفَ فِی الْاَرْضِ ۪
وَلِنُعَلِّمَهٗ مِنْ تَاْوِیْلِ الْاَحَادِیْثِ ؕ وَاللّٰهُ غَالِبٌ عَلٰۤى اَمْرِهٖ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا یَعْلَمُوْنَ ﴿۲۱﴾ وَلَمَّا بَلَغَ اَشُدَّهٗۤ

دَمصرو الونه خپلے کور والاته دَ دهٔ دَاوسیدلوپه عزت سره خیال ساته کیدیشی چه مونږله نفع راکړی یائے دَځوئی په ځائے اُونیسو او دغسے ځائے ورکړومونږ یوسف له په زمکه (دَمصر) کښ اوچه اوخایو دهٔ ته دَ حقیقت دَ خبرونه او اللّٰه تعالیٰ زور وردے په خپل کارونو باندے لیکن ډیر خلق نه پوهیگی (۲۱) اوهرکله چه دے اورسیدلو ځوانیٔ ته

یُوسُف) او نختلو په هغه رسئے پورے یوسف ﴿یٰبُشْرٰی﴾ اصل معنیٰ داده چه اے خوشحالئے راشه دا ډوخت دے۔ بل قول دا دے چه بشرٰی دَ هغه دَ ملګری نوم وؤ ﴿هٰذَا غُلٰمٌ﴾ دا قول په عادت دَ تاجرانو سره دے چه هغوی کوم ځیز او مومی نو دَ تجارت دپاره ئے استعمالوی ﴿وَاَسَرُّوْهُ﴾ پدیکښ دوه تفسیره دی۔ اول داچه پټ اوساتو رونږو دَ یوسف علیه السلام حال دَ یوسف علیه السلام لره او وے ګرځوؤهغه لره مال دَ تجارت دویم داچه پټ کړویوسف علیه السلام لره مشکی اوملګرودَهغه دَ نورو کسانونه دپاره دَ ګټے کولو۔

[۲۰] په دے ایت کښ درے معنے دی۔ اوله معنیٰ داد ه چه خرڅ کړو رونږو دَ یوسف علیه السلام هغه لره او وو دوی په دغے پیسو کښ بے رغبته ځکه چه حرامے ئے ګنړلے ۔ دویمه معنیٰ دا ده چه خرڅ کړو مشکی او ملګرودَ هغه یوسف علیه السلام لره په مصر کښ او وؤ دوی په یوسف علیه السلام کښ بے رغبته ځکه چه ګمان کوودوی چه دا نافرمان مرئیے دے۔ دریمه معنیٰ دا ده چه واخسته یوسف علیه السلام لره مشکی اوملګرودَ هغه په اخری معنیٰ سره شراء په معنیٰ دَ اشتراء ده ﴿بِبَخْسٍ﴾ دَ دے دوه معنے دی ناقص اوحرام، دلته دویمه معنی غوره ده ﴿مَعْدُوْدَةٍ﴾ هغے ته وئیلے شی چه شمارئیے اسان وی اوداکنایه ده دَ لګ نه ﴿وَكَانُوْا فِیْهِ﴾ دَ زهد په صله کښ فِی راځی په معنیٰ دَ عدم رغبت وی۔ او فِیهِ ضمیر راجع دے ثمن ته هر کله چه ګانوا ضمیر رونږو ته راجع شی ۔ یا ضمیر دَ فِیهِ راجع دے یوسف علیه السلام ته کله چه ضمیر وارد او دَ هغه ملګروته راجع شی۔ په دے ایت کښ دلیل دے په دے مسئله باندے چه غټ قیمت والا ځیزپه لږوپیسو اخستل جائزدی په شرط دَ رضا دَ طرفینواو په شرط دَ دهوکے نه کولو۔

[۲۱] په دے ایت کښ ذکردَ احسان دَ اللّٰه تعالیٰ دے په یوسف علیه السلام باندے په عزت ورکولوسره۔ اونوم دَ اخستونکی قطفیر وؤاومشهور وؤ په عزیز مِصر اودے وزیرخزانه اومشر وزیر دَ مصر وؤ اونوم دَ ښځے دَ دهٔ راعیل وؤ او مشهوره وه په زلیخا سره ﴿مَثْوٰهُ﴾ منزل ته وئیلے شی او مراد خوراك څښكاك اوځائیے دَ دیره کیدلو دے ﴿عَسٰۤى اَنْ یَّنْفَعَنَاۤ﴾ چه خرڅ ئے کړونو ډیره ګټه به اوشی یاداچه ښه خدمتونه به کوی ځکه چه دَ خائست دَ صورت نه دلیل نیولے کیږی په حسنِ اخلاق باندے ﴿اَوْ نَتَّخِذَهٗ وَلَدًا﴾ دابناء دے په عادت دَ خلقو چه پردے ځوئیے دَ خپل ځوئي په ځائے اونیسی۔ اودهٔ ته متبنّٰی وائي۔ په دے کښ اشاره ده چه دَ عزیز مصر اولاد دَ دے ښځے نه نه وؤ ﴿وَكَذٰلِكَ مَكَّنَّا﴾ لکه چه بچ کړواللّٰه تعالیٰ دهٔ لره دَ قتل اوکوهی نه نو دارنګ دَ دے مراد دا دے چه عزیزمصرپه دهٔ باندے مهربان شونودَ هغه دَ مهربانئی په وجه سره په مصر کښ دَ یوسف علیه السلام عزت پیداشو، اوپه کوردَ عزیز مصرکښ په عزت اوخوشحالئے سره اوسیدلو ﴿وَلِنُعَلِّمَهٗ﴾ دا

اٰتَيْنٰهُ حُكْمًا وَّعِلْمًا ؕ وَكَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۲۲﴾ وَرَاوَدَتْهُ الَّتِيْ هُوَ فِيْ بَيْتِهَا عَنْ نَّفْسِهٖ وَغَلَّقَتِ
الْاَبْوَابَ وَقَالَتْ هَيْتَ لَكَ ؕ قَالَ مَعَاذَ اللّٰهِ اِنَّهٗ رَبِّيْٓ اَحْسَنَ مَثْوَايَ ؕ اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿۲۳﴾ وَلَقَدْ

نو ورکړه مونږ دهٔ ته ډفیصلو (قوت) اوپوهه دَ دین او دغسے بدله ورکؤو مونږ خائسته عمل کوونکو ته (۲۲) او غولولودهٔ لره هغه ښځے چه دے ډهغے په کور کښ وو دَ دهٔ دَ نفس په باره کښ اوبندے کړے ټولے دروازے او اُوئیل ئے دلته راشه تاته وایم هغه اُوئیل پناه غواړم په اللّٰه تعالیٰ سره یقیناً هغه زما پالنه کوی خائسته کړیدے ځائے ډاوسیدلو ځما یقیناً نه شی بچ کیدے ظالمان(۲۳) اویقیناً

معطوف دے په پټ لفظ باندے یعنی لِنکرمهٗ ولِنعَلمهٗ ﴿تَاْوِيْلِ الْاَحَادِيْثِ﴾ دَ دے دوه معنے په تفسیرد (٦) ایت کښ تیرشویدی﴿وَاللّٰهُ غَالِبٌ عَلٰٓى اَمْرِهٖ﴾ په دے کښ رد دے دَ شرك فی التصرف۔ أمرِهٖ ضمیر راجع دے اللّٰه تعالیٰ ته او مراد ترینه ټول کارونه دی چه اللّٰه تعالیٰ ئے اراده اوکړی نوشوك ئے نشی منع کولے یا ضمیر راجع دے یوسف علیه السلام ته او مراد ترینه تمکین دَ یوسف علیه السلام دے اګر چه رونړوذلیل کوؤ لیکن اللّٰه تعالیٰ ورله عزت ورکړو﴿وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ﴾ دا دلیل دے په دے خبره چه دَ اللّٰه تعالیٰ نه سیوا هیڅوك په غیب باندے نه پوهیږی او دا په تفسیر قرطبی کښ ذکر دی۔

[۲۲] دَ دے ایت نه دریم مقام دے ترآیت(۲۹) پورے په دے کښ ذکردَ بلے ابتلاء دَ یوسف علیه السلام دے په سبب دَ ښځے دَ عزیز مصرسره دَ هغے طلب کول او دروازے بندول او یوسف علیه السلام ته دعوت دَ فحاشئی ورکول او کلکه اراده کول اوپه هغه پسے منډه وهل دَ هغه قمیص شلول او په هغه باندے تهمت لګول۔ بیا ذکر دَ احسان دَ اللّٰه تعالیٰ دے په یوسف علیه السلام باندے دَ هغهٔ په پاکدامنئی ښکاره کولوسره۔ په فیصله کولودَ یوشاهد سره۔ په دے آیت(۲۲)کښ ذکر دَ احساناتو دَ اللّٰه تعالیٰ دے په یوسف علیه السلام باندے په نبوت ورکولو سره او په علم ورکولو دَ دین سره ﴿اَشُدَّهٗٓ﴾ بلوغ ته وئیلے شی اوبعضو وئیلی دی چه دَ اتلس کالونه تر دیرش پورے اشد وی﴿حُكْمًا وَّعِلْمًا﴾ مراد دَ حکم نه نبوت دے چه په سبب دَ هغے سره فیصلے کوی یا مراد پدے سره صرف قوت دَ فهم دے دَ فیصلو کولو او عِلمًا بنا په اول باندے تاکید دے اوبنا په دویم باندے تعمیم بعد التخصیص دے ﴿وَكَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ﴾ هرکله چه مراد دَ حکمًا نه نبوت وی نو اعتراض واردیږی چه حاصل معنیٰ دَ دے جملے داشوه چه نبوت دَ احسان په جزاکښ ملاویږی اوحال دا دے دَ اهل سنت والجماعت په نیز باندے نبوت کسبی څیزنه دے یعنی دَ یوکسب اومحنت په ذریعه سره نه حاصلیږی؟ نوجواب دا دے چه نجزی په معنیٰ دَ بدله ورکولوسره نه دے بلکه په معنیٰ دَ کفایت سره دے ځکه چه لسان العرب لیکلی دی جزیٰ په معنیٰ دَ کفیٰ سره هم رائحی نو معنیٰ دا شوه (نودغسے مونږ پوره نعمت ورکوؤ انبیاؤعلیهم السلام ته) اوانبیاء دَ پیدائیش نه محسنین دی اوکه چرے مراد دَ حکمانه پوهه دَ دین اودَ فیصلووی نو دَ اشد نه مراد منتها دَ ځوانئے ده یعنی دَ ځوانئے سره ئے چه احسان سره دَ عمل نه کړے وی نو په هغے سره حکم اوعلم ملاویږی۔

[۲۳] په دے ایت کښ ذکردَ ابتلاء دے دَ یوسف علیه السلام په سبب دَ ښځے په دریوطریقوسره۔ اول مُرَاوَدَ ة کول۔ مراد دَ مراودے نه په ټکئی اوچالاکئی سره ځان ته مائیله کول دی۔ بعضِ مفسرینو وئیلی دی چه

هَمَّتْ بِهٖ ۚ وَهَمَّ بِهَا لَوْلَآ اَنْ رَّاٰ بُرْهَانَ رَبِّهٖ ؕ كَذٰلِكَ لِنَصْرِفَ عَنْهُ السُّوْٓءَ وَالْفَحْشَآءَ ؕ اِنَّهٗ مِنْ عِبَادِنَا الْمُخْلَصِيْنَ ﴿۲۴﴾ وَاسْتَبَقَا الْبَابَ وَقَدَّتْ قَمِيْصَهٗ مِنْ دُبُرٍ وَّاَلْفَيَا سَيِّدَهَا لَدَا الْبَابِ ؕ قَالَتْ مَا جَزَآءُ

هغے پوره اراده اوکړه دَ هغه او اراده به کړے وے هغه که نوے لیدلے دلیل دَرب دَطرف نه دغسے (اوساته مونږ دے) دَ دے دپاره چه وارڅوددَ دهٔ نه بدکار اوے حیائی یقیناً ڤو دے دَبندګانو ځمونږنه چه بچ ساتلے شوی دی (۲٤) اودواړو منډه کړه دروازے ته او اوشلوو د ے ښځے قمیص دَهغه دَشا طرف نه اوبیا اوموند دواړو خاوند دَښځے دَ دروازے سره دے اُوئیل نیشته سزا

هغے ښځے دَ دهٔ دَ ویختوصفت اوکړونو هغه جواب اوکړو چه په مرګ سره دا دَ انسان نه اول دوړیږی بیا هغے دَ سترګو صفت اوکړونو هغه اُوئیل چه په قبرکښ دا اول په مخ باندے را بهیږی بیا هغے اُوئیل چه ستا دا مخ ډیر خائسته دے نو هغه اوئیل چه دا هم دَځاورو دپاره دے دا ټولے حیلے کول دیته مراوده وئیلے شی۔ دویمه طریقه دروازے بندول۔اودروازے ئے جمع ځکه ذکرکړیدی چه دَ هغه مکان ډیرے دروازے وے ۔ او راګیرول دَ یو تن هله کیدے شی چه ټولے دروازے بندکړے شی۔ دریمه طریقه دعوت ورکول وڅیوسف علیه السلام له ځان طرفته ﴿هَيْتَ لَكَ﴾ دا اسم دے په معنیٰ دَ تعال اواقبل سره اومجاهد وئیلی دی چه دا عربی کلمه ده استعمالیږی دَ پاره دَ تیزئے ورکولو په څه ځیز باندے ﴿قَالَ مَعَاذَاللّٰهِ﴾ دا دلیل دے په دے خبره چه پیغمبران دَ ګناه او دَ مصیبت نه په بچ کیدلوکښ اللّٰه تعالیٰ ته محتاج دی ﴿اِنَّهٗ رَبِّیْٓ﴾ مراد دَ دے نه اللّٰه تعالیٰ دے۔ یا مراد دَ دے نه عزیز مصر دے اومعلومه شوه چه دَ رب اطلاق په غیراللّٰه باندے جائز دے په دے شرط چه مطلق نه وی یا اضافت عامه نه وی لکه رب العالمین او رب الناس ځکه دا خاص دی په اللّٰه تعالیٰ پورے ﴿الظّٰلِمُوْنَ﴾ په دے کښ اشاره ده چه خیانت کول په کور دَ مولیٰ کښ اوبدکاری کول ظلم دے۔

[۲٤]په دے ایت کښ اول ذکردے دَکلکے ارادے دَ زلیخاپه باره دَیوسف علیه السلام کښ اوبیائیے ذکرکړے دے سبب دَ پاکدامنئے دَ یوسف علیه السلام اوعِصمت دَ هغه﴿وَلَقَدْ هَمَّتْ بِهٖ﴾ تحقیق والا وئیلی دی چه هَم دوه قسمه دے اول (هَم ثابت) چه هغه په معنیٰ دَ عزم سره دے اوپه هغے کښ قصد اواختیار دے اودا هَم دَ زلیخا ووپه دلیل دَ هغه چه په مخکښ ایت کښ ذکرشول (مراوده، اودروازے بندول اواز ورکول) اوپه دلیل دَ لام اودَ قد سره۔ اودویم (هَم عارض) دے په زړه کښ بے اختیاره تیریدل او هغه ګناه نه دے نویوقول دَ مفسرینودا دے چه هَم دَ یوسف علیه السلام پدے معنیٰ سره دے او دویم قول دا دے چه هَم دَ یوسف علیه السلام په معنیٰ دَ عزم سره دے لیکن معلق دے په ﴿لَوْلَآ اَنْ رَّاٰ﴾ پورے یعنی دَ وجے دَ لیدلو دَ برهان دَ رب نه هَم ئے نه دے کړے په دے کښ غوره قول دا دے چه یوسف علیه السلام دَ وجے دَ لیدلو دَ برهان نه هَم نه دے کړے ۔ او دلیل په دے باندے روستنئے جمله ده نو دا لفظ چه (لَوْلَآ اَنْ رَّاٰ بُرْهَانَ رَبِّهٖ) دے په معنی کښ وړاندے دے په هَمَّ بِهَا باندے۔ اومراد دَ برهان نه علم دَ نبوت او دَ شریعت دے چه ذکرشوے دے په آیت (۲۲) کښ۔ اوکوم تفسیرونو کښ چه دَ هَم په باره کښ لیکلی دی چه ازاربندئیے پرانستلواونزدے شواودَ برهان په باره کښ وئیلی دی چه دا صورت دَ یعقوب علیه السلام وڅ یا اواز ورته اوشو نودا ټول اسرائیلات دی او دَ دے ایت دَ راتلونکو جملو او دَهی رادوتنی او شهادت دَ شاهد نه مخالف دی محققینو مفسرینو په دے باندے رد کړے دے ﴿السُّوْٓءَ﴾

مَنْ اَرَادَ بِاَهْلِكَ سُوْٓءًا اِلَّآ اَنْ يُّسْجَنَ اَوْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۲۵﴾ قَالَ هِيَ رَاوَدَتْنِيْ عَنْ نَّفْسِيْ وَشَهِدَ شَاهِدٌ
مِّنْ اَهْلِهَا ۚ اِنْ كَانَ قَمِيْصُهٗ قُدَّ مِنْ قُبُلٍ فَصَدَقَتْ وَهُوَ مِنَ الْكٰذِبِيْنَ ﴿۲۶﴾ وَاِنْ كَانَ قَمِيْصُهٗ قُدَّ مِنْ
دُبُرٍ فَكَذَبَتْ وَهُوَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿۲۷﴾ فَلَمَّا رَاٰ قَمِيْصَهٗ قُدَّ مِنْ دُبُرٍ قَالَ اِنَّهٗ مِنْ كَيْدِكُنَّ ۭ اِنَّ كَيْدَكُنَّ

دَهغه چاچه غواړی ستا دَکور والاسره بد کاری سیوا د دے نه چه جیل ته کړیشی یادرد ناك عذاب (۲۵) هغه اُوئیل دے ښځے غولولم ځهٔ ځما دَنفس په باره کښ اوفیصله اوکړه یو فیصله کوونکی دَښځے نه که دَ دهٔ قمیص شلیدلے وی دَمخے دَطرف نه پس دابښځه رشتیا وائی او دے دَ دروغژنونه دے (۲۶) اوکه قمیص دَ دهٔ شلیدلے وی دَشا دَ طرف نه پس دابښځه دروغ وائی اودے دَرشتینونه دے (۲۷) پس هرکله چه اولیدو دهٔ قمیص دَهغه شلیدلے دَشا طرف نه اُوئیل ئے یقیناً داستاسو مکر دے یقیناً مکر دَزنانۂ

مراد دَ دے نه هَم اوکناه صغیره دے ﴿وَالْفَحْشَآءَ﴾ مراد دَ دے نه زنا اوکناه کبیره دے ﴿الْمُخْلَصِيْنَ﴾ په دے کښ اشاره ده چه انبیاء علیهم السلام په عِصمت کښ اللّٰه تعالیٰ ته محتاج دی۔

[۲۵] په دے آیت کښ دَ زلیخا دَ طرف نه درے مکرونه ذکر دی اول منډه وهل په یوسف علیه السلام پسے تر دروازے پورے او یوسف علیه السلام دَ دے نه تیښته کوله دَ پاره دَ بچ کیدلو۔ او دویم مکر قمیص شلول دی دَ شاطرفنه۔ دا دلیل دے چه یوسف علیه السلام مخکښ زور کولو دَ بچ کیدلو دَ پاره اوښځے روستو را ښکلو ځکه قمیص اوشلیدلو او دریم مکر بدنامی لګول دی په هغه باندے چه دهٔ اراده کړے ده دَ بدئے او بیا هغے تجویز پیش کولو په باره دَ سزا دَ هغه کښ دَ پاره دَ دے چه په هغه جرم ښکاره شی ﴿سَيِّدَهَا﴾ مراد دَسیدنه خاوند دے اودا دلیل دے چه دَسید دَاللّٰه تعالیٰ نه سیواپه بندګانوباندے هم اطلاق کیدے شی ﴿الْبَابِ﴾ ئے مفرد ذکر کړے دے ځکه چه وتل دَ یوے دروازے نه کیدے شی۔ اومخکښ ئے الابواب جمع ذکرکړی وؤ ځکه چه دَ را ګیرولو دَ پاره ټولے دروازے بندول پکاروی۔

[۲۶] په دے آیت کښ بیان دَ صفائیے دَ یوسف علیه السلام دے چه پیش کړے ئے وو دَ پاره دَ ځان خپل او دَ طعن دفع کولو دَ پاره صفائي پیش کول واجب وی بیا په دے آیت کښ ذکرکړے شویده فیصله دَ حاکم ﴿شَاهِدٌ﴾ صحیح قول دا دے چه دایوعاقل بالغ اوهوښیار سړے وو۔ اوفیصله ئے په انصاف سره کړے وه۔ اومراد دَ شهادت نه فیصله کول دی نه چه ګواهی کول دی او هغه روایت چه ذکر کړے دے مفسرینو په باره دَ شاهد کښ چه دا یو وړوکے بچے وواوګویاشونو هغه روایت صحیح نه دے ځکه چه کم روایت امام بخاری راوړے دے په باره دَ ګویا کیدلو دَ وړو بچوکښ نوپه هغے کښ دَ دے شاهد تذکره نیشته بلکه هغه درے دی عیسیٰ علیه السلام او جریج او ځوئیے دَ یوے ښځے په بنی اسرائیلوکښ۔

[۲۷] داهم جزء دے دَ فیصلے دَحاکم نه اودا فیصله په اعتبارد اَماراتوسره ده چه زمونږشریعت کښ هم دَ هغے مثالونه شته دے۔

عَظِيْمٌ ﴿۲۸﴾ يُوْسُفُ اَعْرِضْ عَنْ هٰذَا ۚ وَاسْتَغْفِرِيْ لِذَنْۢبِكِ ۖ اِنَّكِ كُنْتِ مِنَ الْخٰطِـِٕيْنَ ﴿۲۹﴾ وَقَالَ نِسْوَةٌ
فِي الْمَدِيْنَةِ امْرَاَتُ الْعَزِيْزِ تُرَاوِدُ فَتٰىهَا عَنْ نَّفْسِهٖ ۚ قَدْ شَغَفَهَا حُبًّا ۭ اِنَّا لَنَرٰىهَا فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۳۰﴾
فَلَمَّا سَمِعَتْ بِمَكْرِهِنَّ اَرْسَلَتْ اِلَيْهِنَّ وَاَعْتَدَتْ لَهُنَّ مُتَّكَاً وَّاٰتَتْ كُلَّ وَاحِدَةٍ مِّنْهُنَّ سِكِّيْنًا وَّ
قَالَتِ اخْرُجْ عَلَيْهِنَّ ۚ فَلَمَّا رَاَيْنَهٗٓ اَكْبَرْنَهٗ وَقَطَّعْنَ اَيْدِيَهُنَّ وَقُلْنَ حَاشَ لِلّٰهِ مَا هٰذَا بَشَرًا ۭ اِنْ هٰذَآ اِلَّا

لوئے وی(۲۸) اے یوسف(علیہ السلام) مخ واړوه دَ دے خبرے (دَخورولونه) او اے بښځے ته بخنه اوغواړه دَ ګناه خپلے یقیناً ته دَ خطا کارونه ئے (۲۹) او اُوئیل زنانۂ په ښار کښ بښځه دَعزیز غولوی خپل مرئے په باره دَ نفس دَهغه کښ یقیناً مینه دَهغه چاپیره شوے ده دَزړه دَ دے نه یقیناً وینو مونږ دے لره په خطائے ښکاره کښ (۳۰) پس هرکله چه واوریدو دے بښځے طعن دَ هغوی نوجواب ئے اولیګلو په هغوی پسے او تیارئے کړو هغوی لره ځائے دَتکیاګانو او ورئے کړه هرے یوے ته دَهغوئ نه چاړه او اُوئیل ئے یوسف ته رااوزه دوئ ته پس هرکله چه دوئ هغه اولیدلونو ډیرلوئے ئے او ګنړلو(په خائست کښ) اوزخمی کړل دوئ لاسونه خپل او دوئ اُوئیل پاکی ده اللّٰه تعالیٰ لره داخوبشر نه دے نه دے دا مګر

[۲۸] په دیکښ دلیل دے په عصمت دَ یوسف علیہ السلام په صحیح علامت ښکاره کیدلو سره اوپه دے آیت کښ تصریح ده په مکرونو کولودَ زلیخا باندے۔

فائده: پدے آیت کښ ذکرشول چه مکر دَ زنانۂ لوئے دے اوپه سورة النسآء ایت (۷۶)کښ دی چه مکر دَ شیطان کمزورے دے نو دینه سوال پیدا کیږی چه ایا دَ زنانۂمکردَ شیطان دَ مکراوچل نه لوئے دے؟ دَ دے حقیقت دا دے چه مکر دَ شیطان په مقابله دَ تدبیردَ اللّٰه تعالیٰ کښ کمزورے دے اومکر دَ زنانۂ لوئے دے په مقابله دَ مکردَ نارینۂ کښ۔

[۲۹] په دے ایت کښ حکم دے یوسف علیہ السلام ته دَپټ ساتلو دَ دے واقعے اوحکم دے زلیخاته په معافئ غوښتلودَ یوسف علیہ السلام نه یادَ خاوند خپل نه یا دَ اللّٰه تعالیٰ نه ځکه چه دوی منونکی وؤدَ اللّٰه تعالیٰ سرهٔ دَ شرك نه۔ اوغصه نه کول دَ عزیزمصر زلیخاته دَ وجے دَ کموالی دَ غیرت نه وؤ۔ او داسے مدارك کښ لیکلی دی ۔ ځکه چه لازم په اعتبار دَ فیصلے سره داوه چه هغهٔ بښځے ته ئیے سزا ورکړے وے۔

[۳۰] دَ دے آیت نه ځلورم مقام دے تر آیت (۳۵) پنځه دیرش پورے اوپه دے مقام کښ ذکردَ ځلورو مکرونو دے اول مکر دَ عامو بښځودے دَ زلیخا سره په طعن وئیلو سره په هغے باندے دویم مکر دَ زلیخا دے دَ بښځو سره ۔ دریم مکر دَ ټولو بښځو دے دَ یوسف علیہ السلام سره ځلورم مکر دَ دوی دے په مجبوره کولود یوسف علیہ السلام په جیل سره۔ او په دے (۳۰) آیت کښ طعن دَ زنانۂ دے په زلیخا باندے په لسو طریقو سره۔ اول دا چه دَ دے خاوندشته دویم داچه خاوند ئیے عزیز دَ مصر دے ، دریم دا چه طلب ئیے دَ غلام نه کړیدے شپږم دا ځلورم داچه په طلب کښ ئیے مبالغه اوکوشش کړیدے، پنځم دا چه طلب ئیے دَ غلام نه کړیدے شپږم دا چه تصریح ئیے کړے ده په وخت دَ طلب کښ دَ نفس دَ هغهٔ، اُوم محبت کول دهغه سره، اتم دَ محبت دا خلیدل دَ زړه پردے ته چه هغے ته شغف وائي، نهم داچه دا په غلطئ کښ ده، اولسم دا چه غلطی ئے واضحه ده ﴿شَغَفَهَا﴾ شغف په اصل کښ پر دے دَزړه ته وئیلے شی یعنی محبت دَ یوسف دَ دے بښځے دَ

مَلَكٌ كَرِيْمٌ ﴿۳۱﴾ قَالَتْ فَذٰلِكُنَّ الَّذِيْ لُمْتُنَّنِيْ فِيْهِ ؕ وَلَقَدْ رَاوَدْتُّهٗ عَنْ نَّفْسِهٖ فَاسْتَعْصَمَ ؕ وَلَئِنْ لَّمْ يَفْعَلْ
مَآ اٰمُرُهٗ لَيُسْجَنَنَّ وَلَيَكُوْنًا مِّنَ الصّٰغِرِيْنَ ﴿۳۲﴾ قَالَ رَبِّ السِّجْنُ اَحَبُّ اِلَيَّ مِمَّا يَدْعُوْنَنِيْٓ اِلَيْهِ ۚ وَاِلَّا تَصْرِفْ
عَنِّيْ كَيْدَهُنَّ اَصْبُ اِلَيْهِنَّ وَاَكُنْ مِّنَ الْجٰهِلِيْنَ ﴿۳۳﴾ فَاسْتَجَابَ لَهٗ رَبُّهٗ فَصَرَفَ عَنْهُ كَيْدَهُنَّ ؕ اِنَّهٗ هُوَ

ملك (فرښته) عزتمند دے (۳۱) اُوئيل دے ښځے پس داهغه دے چه تاسو ځه ملامته کولم دَ دهٗ په باره کښ او يقيناً ما دَ دهٗ غولول کول په باره دَنفس دَ دهٗ کښ پس دهٗ ځان ساتلے دے (ځمانه) اوکه اونکړودَهٗ هغه چه ځه ورته حکم کوم نوضرور جيل ته به دننه کړيشی او ضرور شی به دَے عزتونه (۳۲) اُوئيل يوسف اے ربه جيل زيات خوښ دے ماته دَهغه کارنه چه داښځے ماهغے ته لمسوی اوکه تاځمانه وانه ړوؤ دَ دوئ مکرونه کوګ به شم دوئ ته اوشم به دَ ناپوهه خلقونه (۳۳) پس قبوله کړه دَ دهٗ دُعا دَ دهٗ رب پس اوګرځوو دَ دهٗ نه مکر دَهغوی يقيناً اللّٰه تعالٰی

زړه په پرې ده کښ داخل شوے دے او دننه زړه ته رسيدلے دے۔

[۳۱] پدے ايت کښ ذکردے دَ دفع کولودَ زليخا، طعن دَ زنانۍلره دَ خپل ځان نه اوښکاره کول دَ خپل عذردی په محبت دَ هغه کښ ﴿بِمَكْرِهِنَّ﴾ مکر ئے دَ دے وجے نه اُوئيل چه دوی داخبرے ذريعه ګرځوله دَپاره دَ دين دَ يوسف عليه السلام يا دَ دے وجے نه چه دا غيبت وؤاوغيبت هم پټ وی پشان دَ مکرکولو ﴿مُتَّكَاً﴾ مراد دَ دے نه تکيه ګانے اوبالختونه دی يا مراد ترينه خوراك دے چه په حالت دَ تکيه کښ خوری او دَ دے نه په حديث دَ رسول اللّٰه ﷺ کښ ضمناً منع راغلے ده (يعنی نبی ﷺ فرمائيلی دی چه ځه په تکيه لګولوسره خوراك نه کؤم) بل قول دا دے چه متکأ هرهغه خوراك ته وئيلے شی چه په چاړه باندے پريکولے کيږی۔ ﴿سِكِّيْنًا﴾ په چاړو باندے خوراك کول دَ هغے زمانے تهذيب ګنړلے کيدلو ﴿اَكْبَرْنَهٗ﴾ يعنی هيبت زده شوے دَ هغه دَ ظاهری حسن او جمال نه سرهٗ دَ حسن دَ نبوت اودَ خائيسته اخلاقونه اوحديث صحيح کښ راغلی دی چه يوسف عليه السلام لره شطر (نيم) حسن ورکړے شوے وؤ ﴿وَقَطَّعْنَ اَيْدِيَهُنَّ﴾ مراد دَ قطع نه زخمی کول دی په وجه دَ حيرانيدلودَ دوی حسن دَ يوسف عليه السلام ته ﴿حَاشَ لِلّٰهِ﴾ دا کلمه عَادتاً استعماليږی په وخت دَ تعجب کښ په معنیٰ دَ سبحان اللّٰه اومعاذاللّٰه دا دليل دے چه دوی دَ اللّٰه تعالٰی پاکوالے منلو ﴿اِنْ هٰذَآ اِلَّا مَلَكٌ كَرِيْمٌ﴾ دا تشبيه ورکول په پاکدامنۍ کښ دی يعنی چه دَ ملائيکو پشان پاك دے۔ يا دا تشبيه په حسن کښ ده اګر چه ملائيك دوی نه دی ليدلی ليکن مشهور دی ملائيك په حسن کښ لکه چه شيطان مشهور دے په بدشکلئے کښ۔

[۳۲] پدے ايت کښ اول ملامت کول دَ زليخا دی زنانۍلره په بدل دَ هغوی دَ لعن کښ او بيا تصريح دَ زليخا ده په عصمت دَ يوسف عليه السلام باندے او بيا دباؤ کول دی په هغه باندے په قيد کولو او په ذليل کولو سره دَ پاره دَ خپل مقصد حاصلولو ﴿فَاسْتَعْصَمَ﴾ س او تا دَ ډيرے مبالغے دی په عصمت کښ۔

[۳۳] په دے ايت کښ ذکر دَ غوره کولو دے دَ يوسف عليه السلام قيد لره دپاره دَ بچ کيدلو دَ دے زنانۍواحتياج پيش کول دی اللّٰه تعالٰی ته دَګناه نه په بچ کيدلوکښ ﴿كَيْدَهُنَّ﴾ کښ اشاره ده چه دغه ټولوزنانودَ يوسف عليه السلام نه مطالبه کړے وه يادَ ځان دَ پاره يا سفارش ئے کړے وؤدَ زليخا دَ پاره۔ جيل ئے دَ دے وجے نه

السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿۳۴﴾ ثُمَّ بَدَا لَهُمْ مِّنْۢ بَعْدِ مَا رَاَوُا الْاٰيٰتِ لَيَسْجُنُنَّهٗ حَتّٰى حِيْنٍ ﴿۳۵﴾ وَدَخَلَ مَعَهُ السِّجْنَ
فَتَيٰنِ ؕ قَالَ اَحَدُهُمَآ اِنِّيْٓ اَرٰىنِيْٓ اَعْصِرُ خَمْرًا ۚ وَقَالَ الْاٰخَرُ اِنِّيْٓ اَرٰىنِيْٓ اَحْمِلُ فَوْقَ رَاْسِيْ خُبْزًا تَاْكُلُ
الطَّيْرُ مِنْهُ ؕ نَبِّئْنَا بِتَاْوِيْلِهٖ ۚ اِنَّا نَرٰىكَ مِنَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۳۶﴾ قَالَ لَا يَاْتِيْكُمَا طَعَامٌ تُرْزَقٰنِهٖٓ اِلَّا نَبَّاْتُكُمَا بِتَاْوِيْلِهٖ
قَبْلَ اَنْ يَّاْتِيَكُمَا ؕ ذٰلِكُمَا مِمَّا عَلَّمَنِيْ رَبِّيْ ؕ اِنِّيْ تَرَكْتُ مِلَّةَ قَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ هُمْ

هرڅه اوری اوپه هرڅه باندے پوهه دے (۳٤) بیاهغوی ته (دامصلحت) ښکاره شو روستو دَلیدلودَ دلیلونو دَپاکدامنئ دَهغه چه دے جیل ته واچوی ترڅه وخت پورے (۳۵) او ورننوتل دَ دهٔ په وخت کښ جیل ته دوه ځلمی خدمتګاران اُوئیل یو دَهغوی نه یقیناً ماځان لیدلوخوب کښ چه دَانګورونه شراب نچوړوم او اُوئیل بل یقیناً ماځان لیدلو خوب کښ چه اوچته ژم په سرباندے ډوډئ خوری مارغان دَهغے نه خبرراکړه مونږ ته په تعبیر دَ دے خوب یقیناً مونږ تاوینو دَ ښه کار کوونکونه (۳٦) اُوئیل یوسف(علیه السلام) نه به رائځی تاسوته خوراك چه درکیدے شی دَخوراك دپاره مګر ځه به تاسو دَهغے دَحقیقت نه خبرکړم مخکښ دَراتللو دَهغے نه داتاسو ته چه وایم دَهغے نه دی چه رب زما ماته (په وحی سره) خودلی دی یقیناً ځه جدایم دَهغه قوم نه چه ایمان نه لری په اللّٰه تعالیٰ اودوئ دَ آخرت نه

خوښ کړلو چه معلومه شوه چه دَ دے ګناه نه دَ بچ کیدلو بله لارنیشته بغیرد جیل نه۔ بیا هرکله چه جیل هم کافی نه دے دَ بچ کیدلودَ پاره بغیر دَ مدد دَ اللّٰه تعالیٰ نه دَ دے وجے نه ئے اُوئیل وَاِلَّا تَصرِف عَنِّی۔

فائده: دَ دے ایت نه معلومه شوه چه کله یو انسان مبتلی شی په مصیبت او په معصیت سره نولازم ده چه مصیبت غوره کړی په مقابله دَ معصیت کښ۔

[۳٤] په دے ایت کښ ذکر دَ قبولیت دَ دُعا دَ یوسف(علیه السلام) دے په بچ کولوسره دَ مکر دَ زنانۂنه ﴿فَصَرَفَ عَنْهُ كَيْدَهُنَّ﴾ دَ دے نه معلومه شوه چه مقصد دَ هغه دَ جیل نه دَ ګناه نه بچ کیدل وؤ۔

[۳۵] ﴿بَدَا لَهُمْ﴾ دَ دے فاعل پټ دے یعنی رأی او ﴿لَيَسْجُنُنَّهٗ﴾ دَهغے تفسیردے ﴿الْاٰيٰتِ﴾ نه مراد دلیلونه اوعلامات دَ عِصمت دَ یوسف(علیه السلام) دی چه هغه مخکښ بیان شول۔ اول معاذاللّٰه وئیل، دویم تیښته کول دروازے ته، دریم قمیص شلیدل دَ شاطرف نه، ځلورم فیصله دَ شاهد، پنځم اقراردَعزیزمصر، شپږم اقراردَ زلیخادَ ټولوزنانۂپه مخکښ۔ اُوم دُعا دَ یوسف(علیه السلام) اوجیل ته لیږل دَ یوسف(علیه السلام) دَ پاره دَ پټولودَ دے واقعے وونهٔ دَ وجے دَ دے ووچه دَ هغه نه ځهٔ جرم شوے وو۔اونه وومتهم په جرم سره۔

[۳٦] دَ دے آیت نه پنځم مقام دے ترآیت (٤۲)، پورے په دے کښ ذکر دے دَ حال دَ یوسف(علیه السلام) په جیل کښ اودعوت دَ هغهٔ رسالت ته په معجزه ښکاره کولوسره اودعوت توحید ته په رد دَ شرك سره تفصیلاً۔ بیا بیان دَ تعبیرد خوب دَ ملګرودے، په دے(۳٦) کښ ذکرد دووخادمانو دَ بادشاه دے چه جیل ته دا خل شوی وواودَ دے نه داهم معلومه شوه چه جیل والا درے قسمه دی۔ اول قسم هغه چه جرم ئے کړے وی۔ دویم هغه چه په هغه تهمت دَ جرم وی ، دریم هغه چه نه پرے تهمت وی او نه جرم وی صرف ظلماً قید کړے شوے وی۔ دَ اول مثال نانبائی دَبادشاه وو اومثال دَ دویم قسم ساقی دَ بادشاه وو اومثال دَ دریم قسم یوسف(علیه السلام) وو ﴿فَتَيٰنِ﴾ دا دواړه پدے بدنام شوی وؤ چه دوی دَ بادشاه دَ قتل دَ پاره په خوراك یا ځښنكاك

كٰفِرُوْنَ ﴿۳۷﴾ وَاتَّبَعْتُ مِلَّةَ اٰبَآءِيْٓ اِبْرٰهِيْمَ وَاِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ ؕ مَا كَانَ لَنَآ اَنْ نُّشْرِكَ بِاللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ ؕ
ذٰلِكَ مِنْ فَضْلِ اللّٰهِ عَلَيْنَا وَعَلَى النَّاسِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَشْكُرُوْنَ ﴿۳۸﴾ يٰصَاحِبَيِ السِّجْنِ ءَاَرْبَابٌ
مُّتَفَرِّقُوْنَ خَيْرٌ اَمِ اللّٰهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ ﴿۳۹﴾ مَا تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖٓ اِلَّآ اَسْمَآءً سَمَّيْتُمُوْهَآ اَنْتُمْ وَاٰبَآؤُكُمْ مَّآ
اَنْزَلَ اللّٰهُ بِهَا مِنْ سُلْطٰنٍ ؕ اِنِ الْحُكْمُ اِلَّا لِلّٰهِ ؕ اَمَرَ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّآ اِيَّاهُ ؕ ذٰلِكَ الدِّيْنُ الْقَيِّمُ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ

منکر دی (۳۷) او څه تابع یم دَ دین دَمشرانو خپلو چه ابراهیم(علیه السلام) او اسحاق(علیه السلام) او یعقوب(علیه السلام) دے جائز نه دی مونږ لره چه شریك کړو دَ اللّٰه تعالیٰ سره څه شے دا (توحید) فضل دَ اللّٰه تعالیٰ دے په مونږ باندے اوپه خلقو باندے لیکن ډیر خلق احسان دَ اللّٰه تعالیٰ نه منی (۳۸) اے ملګرو ځما دَ جیل آیا دَبندګئ حقداران چه جدا جدا دی بنه دی (د پاره دَبندګئ) او که اللّٰه تعالیٰ چه یو دے او زور اور دے (۳۹) تاسو بندګی نه کوئ سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه مګر دَ داسے نومونو چه ایخی دی تاسو اومشرانو ستاسو نه دے رالیږلے اللّٰه تعالیٰ په دے باندے هیڅ دلیل نه دے واك اختیار مګر صرف دَ اللّٰه تعالیٰ دے حکم ئے کړیدے چه بندګی به نه کوئ بغیر دَ هغه نه دَبل چا دا دین پوخ دے (په دلیلونوسره) لیکن ډیر

کښ بادشاه ته زهراچولی دی نودواړه ئیے حوالات کښ واچول اودَ دوی مقدمه شروع وه چه معلومه شی چه کوم یومجرم دے ﴿قَالَ اَحَدُهُمَآ اِنِّيْٓ اَرٰىنِيْٓ﴾ ظاهردا ده چه دوی په حقیقت کښ لیدلے وؤ ﴿اِنَّا نَرٰكَ مِنَ الْمُحْسِنِيْنَ﴾ داصفت دَ هغه په (۲۲) کښ تیرشویدے اودا دلیل دے پدیے خبره چه یوسف(علیه السلام) مشهور وؤپه جیل کښ په ښواخلاقوسره اوپدیکښ اشاره ده چه تعبیر دَ خوب دَ هغه چانه طلب کول پکار دی چه صالح او هوښیار وی۔

[۳۷] په دے ایت کښ بیان دَ معجزے دَ یوسف(علیه السلام) دے چه هغه خبر ورکول دی دَ بعضِ مغیباتونه په سبب دَ تعلیم دَ اللّٰه تعالیٰ سره په دلیل دَ دے قول سره ﴿مِمَّا عَلَّمَنِيْ رَبِّيْ﴾ اودا تعلیم وحی ده بیا په دے ایت کښ اظهاردَعقیدے دَیوسف(علیه السلام) دے په برائت سره دَ مشرکانونه چه هغه مصر والا وو په دغه وخت کښ ﴿تَرَكْتُ﴾ دَترك نه مراد اعراض کول اوبرائت کول دی داسے نه چه مخکښ دے په هغه دین کښ وؤ نوبیا ئے پریخودلو څکه چه انبیاء علیهم السلام هروخت معصوم وی۔

[۳۸] او پدے ایت کښ اظهاردَ یوسف(علیه السلام) دے ملت خپل لره اجمالاً پدے لفظ سره چه ﴿مِلَّةَ اٰبَآءِيْٓ﴾ اودا درے واړه انبیاء په هغه وخت شام، فلسطین، مصر، عرب کښ مشهوروؤپه دین دَحنیفیت سره او دا دلیل دے چه اتباع دَ اباؤ(چه انبیاء دی)په دلیل کښ پیش کول پکاردی۔ اوتفصیلاً پدے لفظ سره ﴿مَا كَانَ لَنَآ اَنْ نُّشْرِكَ بِاللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ﴾ اودا دلیل دے په دے خبره چه توحید، دین دَ ټولوانبیاؤ دے۔ مِن شَيءٍ په دے لفظ کښ ډیرتعمیم دے څکه چه لفظ شيءٍ عام دے اوپه سیاق دَ نفی کښ دے نورعموم غواړی اوحرف دَ مِن هم دَ تاکید دَ عموم دَ پاره دے نودا شامل دے بتانو، اونو،ګټو، درباروونو، اولیاؤ، پیرانو، قبرونو، ملائیکواوپیریانو ټولوته ﴿لَا يَشْكُرُوْنَ﴾ لویه نا شکری شرك کول دی۔

[۳۹] روستو دَ تمهیدنه دعوت ورکوی جیل والوته ﴿يٰصَاحِبَيِ السِّجْنِ﴾ په دے لفظ کښ شفقت اونرمی ده یعنی څه ستاسودَ ملګرتیا حق ادا کؤم په لفظ دَ سجن کښ اشاره ده چه صرف دَ جیل ملګری

النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۴۰﴾ يٰصَاحِبَيِ السِّجْنِ اَمَّآ اَحَدُكُمَا فَيَسْقِيْ رَبَّهٗ خَمْرًا ۚ وَاَمَّا الْاٰخَرُ فَيُصْلَبُ فَتَاْكُلُ
الطَّيْرُ مِنْ رَّاْسِهٖ ؕ قُضِيَ الْاَمْرُ الَّذِيْ فِيْهِ تَسْتَفْتِيٰنِ ﴿۴۱﴾ وَقَالَ لِلَّذِيْ ظَنَّ اَنَّهٗ نَاجٍ مِّنْهُمَا اذْكُرْنِيْ عِنْدَ رَبِّكَ ۫

خلق نه پوهیږی (٤٠) اے ملګرو زما دَجیل هرچه ستاسو دایوتن دے (بچ به شی) پس څکوی به په مولا خپل باندے شراب او هرچه بل دے پس دے به پانسی کړے شی پس خوری به مارغان دَ ده دَ کپړئ نه فیصله کړے شویده (دَمخکے نه) دَ دغه کارچه تاسو دَهغے په باره کښ تپوسونه کول (٤١) او اُوئیل یوسف(علیه السلام) هغه تن ته چه پوهه وو یوسف(علیه السلام) چه دے به بچ کیږی دَ دے دواړونه یادکړه زما دا حالات دَمولا په وړاندے

ئیے ووَ دین ملګری نه وواوابوبکرﷺ دَ نبیﷺ سره په دین کښ ملګرے ووَ دَ دے وجے نه وئیلی دی لصاحبهٖ اوفی الغار ئیے مخکښ ذکرکړے دے نوقول دَ شیعه ګانو باطل دے هغوی لِصاحبهٖ قیاس کوی په یٰصاحبَیِ السجن باندے اووائی چه په دے کښ هیڅ غوره والے دَ ابوبکر نیشته (خَذَلَهُم اللّٰهُ تعالٰی) په دے ایت کښ رد دے په شرك دَ ربوبیت باندے په طریقه دَ الزام دَ حجت ﴿مُتَفَرِّقُوْنَ﴾ یو معنیٰ دا ده چه دَ جدا جدا حاجتونودَپاره مقررکړے شوی دی۔ دویمه معنیٰ دا ده چه دَ دوی په مرتبوکښ فرق دے په نیزدَ مشرکانو ﴿خَيْرٌ﴾ نه مراد دا دے چه دَ استحاق دَ عبادت اودَ ربوبیت دَ پاره لائق دی ﴿الْوَاحِدُ﴾ یوه معنی دا ده چه په ذات اوصفاتوکښ یو دے مثل او شبیه نظیرئے نیشته ﴿الْقَهَّارُ﴾ په هر چا او په هر کار باندے زوراور دے او نور معبودان ټول عاجز دی۔

[٤٠] هرکله چه توحید دَ ربوبیت مستلزم دے توحید دَالوهیت سره نو په دے ایت کښ تفصیلاً رد دے په شرك فی العبادت اوپه شرك فی الحکم باندے، اومراد دَ اسماؤ نه هغه اسماء صفتی دی چه مشرکانو مشهورکړی دی خپل معبودان په هغے سره لکه مشکل کُشا اوغوثِ اعظم اودَ بادوډمه واروغیره اوپه سورة اعراف آیت(٧١) کښ ذکرکړی دی ﴿مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ بِهَا مِنْ سُلْطٰنٍ﴾ نوپه لفظ دَ﴿مَآ اَنْزَلَ﴾ اودَ ﴿مَانَزَّلَ﴾ کښ اشاره ده چه کومه وحی اللّٰه تعالٰی په یوڅل رالیږلے ده او یائیے لږه لږه را لیږلے ده نوپه هغے دواړوکښ دلیل نیشته مشرکانولره ﴿اِنِ الْحُكْمُ اِلَّا لِلّٰهِ﴾ حکم دوه قسمه دے اول حکم تکوینی (یعنی نظام دَ عالم چلول او تصرف کول) دویم حکم تشریعی حکمونه دَ عباداتواوامرونهی اوحلال اوحرام جوړول نو دَ دے دواړه قسمونواختیارصرف دَ اللّٰه تعالٰی سره دے ﴿اَمَرَ﴾ په معنیٰ د حکم دے، یا امربالتوحید اوحاصل دَ توحید ﴿اَلَّا تَعْبُدُوْٓا﴾ دے۔

[٤١] په دے قصه کښ احسن طریقه دَ دعوت ذکرشویده چه هرکله دغه کسانودَ خپل مقصد دپاره یوسف(علیه السلام) ته رجوع اوکړه اوحاجت مند شول نویوسف(علیه السلام) ورته اول دَ توحید اورسالت دعوت ورکړو اوپس دَبیان دَ توحید اودَ رسالت نه بیان دَتعبیردَ خوب دَ ملګرو دَ یوسف(علیه السلام) دے چه په هغے کښے دَ یونجات ذکر دے اودَ بل سزا۔ اوپه لفظ دَ ﴿قُضِيَ الْاَمْرُ﴾ کښ اشاره ده چه دا تعبیردَ طرف دَ اللّٰه تعالٰی نه یقینی دے۔

فَاَنْسٰىهُ الشَّيْطٰنُ ذِكْرَ رَبِّهٖ فَلَبِثَ فِي السِّجْنِ بِضْعَ سِنِيْنَ ﴿۴۲﴾ وَقَالَ الْمَلِكُ اِنِّيْٓ اَرٰى سَبْعَ بَقَرٰتٍ سِمَانٍ
يَّاْكُلُهُنَّ سَبْعٌ عِجَافٌ وَّسَبْعَ سُنْۢبُلٰتٍ خُضْرٍ وَّاُخَرَ يٰبِسٰتٍ ؕ يٰٓاَيُّهَا الْمَلَاُ اَفْتُوْنِيْ فِيْ رُءْيَايَ اِنْ كُنْتُمْ
لِلرُّءْيَا تَعْبُرُوْنَ ﴿۴۳﴾ قَالُوْٓا اَضْغَاثُ اَحْلَامٍ ۚ وَمَا نَحْنُ بِتَاْوِيْلِ الْاَحْلَامِ بِعٰلِمِيْنَ ﴿۴۴﴾ وَقَالَ الَّذِيْ
نَجَا مِنْهُمَا وَادَّكَرَ بَعْدَ اُمَّةٍ اَنَا اُنَبِّئُكُمْ بِتَاْوِيْلِهٖ فَاَرْسِلُوْنِ ﴿۴۵﴾ يُوْسُفُ اَيُّهَا الصِّدِّيْقُ اَفْتِنَا فِيْ

پس هیر کړو دَهغه نه شیطان یاداشت ورکول مولاته پس حصار شو یوسف(علیه السلام) په جیل کښ یوځو کاله (۴۲) او اُوئیل بادشاه یقیناً مالیدلے (په خوب کښ) اُوه غواګانے څرے چه خوری هغے لره اُوه تپے او اُوه وګی شنه او نور(اُوه) وچ شوی اے درباروالو تعبیر راکړئ ماته زما دَ دے خوب که تاسو چرے ئے دَخوب تعبیر ویستونکی (۴۳) هغوی اُوئیل داګډوډ خوبونه دی اومونږ نه یو په تعبیر دَ داسے خوبونو پوهیدونکی (۴۴) او اُوئیل هغه تن چه جیل نه وتلے وو دَهغه دوونه اویادئے کړه روستو دَځه مودے نه ځه به تاسو خبرکړم په تعبیر دَ دے خوب سره پس مااولیږئ (۴۵) اے یوسف اے ډیر رشتینیا تعبیر راکړه مونږ ته په باره

[۴۲] په دے آیت کښ بیان دَ دے خبرے دے چه یوسف(علیه السلام) یوه ذمه واری اوسپارله هغه کس ته چه نجات موندونکے وو هغه ذمه واری داوه چه زما دا دین او زما حال چه ته دَ هغے نه خبرشوے بادشاه ته اورسوه اومقصد په دے کښ تبلیغ دَ دین توحید وو بادشاه ته۔ لیکن شیطان دَ هغے ملګری نه تبلیغ دَ مسئلے اوبیان دَ حال دَ یوسف(علیه السلام) هیرکړو۔ اودا سبب شودَ دے چه یوسف(علیه السلام) په جیل کښ ډیره موده تیره کړه۔ او په هغه موده کښ اختلاف دے دَ مفسرینو چه اُوه کاله وو یا دولس کاله اویا څوارلس کاله۔ ﴿لِلَّذِيْ ظَنَّ﴾ ضمیر راجع دے ساقی ته یا راجع دے یوسف(علیه السلام) ته او ظن په معنیٰ دَ یقین دے ﴿اُذْكُرْنِيْ عِنْدَ رَبِّكَ﴾ مرادَدَ دے نه دَ جیل ټول حالت دے چه په هغے کښ معجزه اوتوحید ټول داخل دی ﴿فَاَنْسٰىهُ الشَّيْطٰنُ﴾ صحیح دا ده چه ضمیر راجع دے ساقی ته په قرینه دَ وَادَّكَرَ بَعْدَ اُمَّةٍ (۴۵) سره۔

[۴۳] دَ دے آیت نه شپږم مقام دے ترآیت اُوه پنځوستم (۵۷) پورے په دے مقام کښ بیان دَ خوب دَ بادشاه دے ۔بیا عجز دَ نوروخلقو دے دَ هغے دَ تعبیرنه اوتعبیرد یوسف(علیه السلام) دے دَ هغے خوب سره دَ تدبیر بیانولونه۔ بیا اظهارد پاکدامنئی دَ یوسف(علیه السلام) دے په اقرار دَ ټولو زنانو اوپه اقرارد زلیخا دَ بادشاه په وړاندے۔ بیاوتل دَهغه دی دَ جیل نه اومقررکول دی دَ بادشاه هغه لره په انتظام دَ خزانو دَ مصر سرهٔ دَ عزت نه ۔ په دے (۴۳) آیت کښ تفصیل دَ خوب دَ بادشاه دے اوتعبیر طلب کول دی دَ خپل مشورے والونه۔ اوهرکله چه تعلق دَ قحط دَ غلواودَ څارووسره وی دَ دے وجے نه په دے خوب کښ بادشاه دا دواړه څیزونه اولیدل ﴿تَعْبُرُوْنَ﴾ تفسیرد خوب ته وئیلے شی ګویا چه دَ ظاهرنه باطن ته عبورکیږی او تاویل عام دے۔

[۴۴] په دے آیت کښ بیان دَ عجزدَ اهل شوریٰ دے دَ تعبیردَ خوب نه اوتسلی ورکول دی بادشاه ته چه ستا خوب تعبیرته محتاج نهٔ دے ځکه چه ګډوډ خوب دے ﴿اَلْاَحْلَامِ﴾ باطل خوبونه یا عام خوبونه مراد دی اللّٰه تعالیٰ دغه خلق عاجز کړل دَ تعبیر دَ خوب دَ بادشاه نه دَپاره دَ دے چه دوی رجوع اوکړی یوسف(علیه السلام) ته۔

[۴۵] په دے آیت کښ ذکردَ هغه ساقی دے چه پیغام دَ یوسف(علیه السلام) ئے هیرکړے وو اواوس ورته ورپاد

سَبْعِ بَقَرٰتٍ سِمَانٍ يَّاْكُلُهُنَّ سَبْعٌ عِجَافٌ وَّسَبْعِ سُنْۢبُلٰتٍ خُضْرٍ وَّاُخَرَ يٰبِسٰتٍ ؕ لَعَلِّيْۤ اَرْجِعُ اِلَى النَّاسِ
لَعَلَّهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿۴۶﴾ قَالَ تَزْرَعُوْنَ سَبْعَ سِنِيْنَ دَاَبًا ۚ فَمَا حَصَدْتُّمْ فَذَرُوْهُ فِيْ سُنْۢبُلِهٖۤ اِلَّا قَلِيْلًا مِّمَّا
تَاْكُلُوْنَ ﴿۴۷﴾ ثُمَّ يَاْتِيْ مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ سَبْعٌ شِدَادٌ يَّاْكُلْنَ مَا قَدَّمْتُمْ لَهُنَّ اِلَّا قَلِيْلًا مِّمَّا تُحْصِنُوْنَ ﴿۴۸﴾
ثُمَّ يَاْتِيْ مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ عَامٌ فِيْهِ يُغَاثُ النَّاسُ وَفِيْهِ يَعْصِرُوْنَ ﴿۴۹﴾ ع وَقَالَ الْمَلِكُ ائْتُوْنِيْ بِهٖ ۚ فَلَمَّا ع ۱۶
جَآءَهُ الرَّسُوْلُ قَالَ ارْجِعْ اِلٰى رَبِّكَ فَسْـَٔلْهُ مَا بَالُ النِّسْوَةِ الّٰتِيْ قَطَّعْنَ اَيْدِيَهُنَّ ؕ اِنَّ رَبِّيْ بِكَيْدِهِنَّ

دَ اُوو غواکانو څربو کښ چه خوری هغئ لره اُوه ټیے او اُوه وکی شنه او نور اوچ دپاره دَ دے چه واپس لارشم خلقوته دَ دے دپاره چه هغوی پوهه شی (٤٦) اُوئیل یوسف(علیه السلام) کرونده به کوئ اووه کاله پرله پسے پس هغه چه لَوکړئے تاسو پس پریګدئ هغه په وګو کښ مګر لګ دَهغه نه چه خورئ تاسو (٤٧) بیابه راشی روستو دَ دے نه اووه کالونه سخت اوبه خوری هغه (غله) چه تاسو مخکښ جمع کړے وی هغے لره مګر لږدَ هغے نه چه تاسو تخم دپاره ساتئ (٤٨) بیابه راشی روستو دَ دے نه داسے کال چه په هغے کښ به بارانونه اوشی په خلقو باندے اوپه هغے کښ به میوے نچوړوئ (٤٩) او اُوئیل بادشاه راولئ ماته دغه سړے پس هرکله چه راغے اَستاذے اُوئیل هغه واپس شه مولی خپل ته پس تپوس اوکړه دَهغه نه څه حال دے دَهغه زنانو چه زخمی کړی وو هغوی لاسونه خپل یقیناً زما رب دَهغوئ په مکر باندے

شو نو اراده ئے اوکړه چه دَ هغه ملاقات پخپله اوکړی اوتعبیر ترے نه طلب کړی۔

[٤٦] په دے آیت کښ پیش کول دَ ساقی دی خوب دَ بادشاه یوسف علیه السلام ته دَپاره دَ تعبیراولفظ دَ ﴿الصِّدِّيْقُ﴾ دلیل دے په دے باندے چه دے ساقی یوسف علیه السلام لره صادق موندلے وو ﴿يَعْلَمُوْنَ﴾ چه پوهه شی په تعبیر دَخوب یاپوهه شی په مرتبه دَ یوسف علیه السلام باندے۔

[٤٧] په دے آیت کښ ذکردَ تعبیردَ سَبعَ بَقَراتٍ سِمَانٍ اودَ سَبعِ سُنبُلاتٍ خُضرٍ دے سرهٔ دَ تعلیم دَ تدبیرنه۔ او حسن خلق دَ یوسف علیه السلام دا دے چه دغه سړی ته ئے هیڅ ملامتیا ورنکړله ﴿تَزْرَعُوْنَ﴾ دا خبر په معنی دَ امر دے۔

[٤٨] په دے کښ بیان دَ تعبیردَ سَبعٌ عِجَافٌ اودَ اُخَرَ یٰبِسٰتٍ دے ﴿يَاْكُلْنَ﴾ فناکول مراد دی اونسبت دَ اکل کلونوته په طریقه دَ توسع دَکلام دے او دیته مجازهم وئیلے کیږی۔

فائده: دا واقعه دلالت کوی په دے خبره چه خوب لیدل دَ کافر هم ریښتنی کیدے شی او دَ دے خوب په صداقت کښ معجزه دَ یوسف علیه السلام ده۔

[٤٩] پدے ایت کښ خبرورکول دی دَ هغه څیزچه نه ووپه خوب دَ بادشاه کښ اوپه دے کښ دلیل دے په فضیلت اوپه نبوت دَ یوسف علیه السلام ﴿وَفِيْهِ يَعْصِرُوْنَ﴾ عصیرونه (جوس) ویستل دَ انګورووغیره نه اودَ زیتون نه اوکونزلواوشړشم نه تیل ویستل۔

عَلِيْمٌ ﴿۵۰﴾ قَالَ مَا خَطْبُكُنَّ إِذْ رَاوَدْتُّنَّ يُوسُفَ عَنْ نَّفْسِهٖ ۚ قُلْنَ حَاشَ لِلّٰهِ مَا عَلِمْنَا عَلَيْهِ مِنْ سُوْٓءٍ ۚ قَالَتِ امْرَاَتُ الْعَزِيْزِ الْـٰٔنَ حَصْحَصَ الْحَقُّ ۖ اَنَا رَاوَدْتُّهٗ عَنْ نَّفْسِهٖ وَاِنَّهٗ لَمِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿۵۱﴾ ذٰلِكَ لِيَعْلَمَ اَنِّيْ لَمْ اَخُنْهُ بِالْغَيْبِ وَاَنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِيْ كَيْدَ الْخَآئِنِيْنَ ﴿۵۲﴾

پوهه دے (۵۰) اُوئیل بادشاه (زنانوته) داځه واقعه ده ستاسو چه غولوتاسو یوسف(علیه السلام) لره دَهغه دَنفس په باره کښ دوئ اُوئیل پاکی ده اللّٰه تعالیٰ لره نه یوخبر شوی مونږ په هغه باندے دَهیڅ نقصان اُوئیل ښځے دَ عزیز اوس په ډاګه شو حق ما دَ دهٔ غولول کول په باره دَ نفس دَ دهٔ کښ او یقیناً دے دَرشتینونه دے (۵۱) (دامے ځکه اقرار اوکړو) چه پوهه شی دے چه یقیناً ماهیڅ نقصان دَ دهٔ پشی شانه دے کړے او یقیناً اللّٰه تعالیٰ نه کامیابوی مکر دَخیانت کړو (۵۲)

[۵۰] په دے آیت کښ طلب کول دَ بادشاه دی یوسف(علیه السلام) لره دَ پاره دَ ملاقات اودَپاره دَ راویستلودَ جیل نه۔ لیکن یوسف(علیه السلام) شرط اولګوؤ په بادشاه باندے دَ تحقیق کولو دَ تیرے شوے واقعے، دَ پاره دَ دے چه دَ بدنامئی نه پاك شی مخکښ دَ شروع کولو دَ دعوت نه خلقوته، اودا اجتهاد وو دَ یوسف(علیه السلام) اوزمونږ دَ نبی(ﷺ) اجتهاد دا ووٴ چه تلوار اوکړے شی په دعوت دَ توحید کښ۔ نودَ دے وجے نه نبی کریم(ﷺ) فرمائیلی وو چه (لَوْ لَبِثْتُ فِي السِّجْنِ مَالَبِثْتَ يُوْسُفُ لَاَجَبْتُ الدَّاعِيَ) که ځه ایساروے په جیل کښ ځومره موده چه ایساروو یوسف(علیه السلام) نومابه دَ داعی خبره قبوله کړے وے۔

[۵۱] په دے آیت کښ شهادت دَ زنانۂ دے سره دَ زلیخانه په پاکدامنئی دَ یوسف(علیه السلام) دَ بادشاه په مخکښ۔

[۵۲] داهم داخل دے په قول دَ زلیخا کښ او مراد ئے دا دے چه په وخت دَ غائب والی دَ یوسف(علیه السلام) کښ ما دَ هغه په باره کښ هیڅ خیانت نه دے کړے په بهتان وئیلوسره اونه په دروغوسره په هغه باندے۔ ﴿وَاَنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِيْ﴾ دلیل دے په دے خبره چه زلیخا اقرار کؤنکے وه په اللّٰه تعالیٰ لیکن شرك ئے کووٴ۔

وَمَآ اُبَرِّئُ نَفْسِيْ ۚ اِنَّ النَّفْسَ لَاَمَّارَةٌۢ بِالسُّوْٓءِ اِلَّا مَا رَحِمَ رَبِّيْ ۭ اِنَّ رَبِّيْ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝۵۳ وَقَالَ الْمَلِكُ ائْتُوْنِيْ بِهٖٓ اَسْتَخْلِصْهُ لِنَفْسِيْ ۚ فَلَمَّا كَلَّمَهٗ قَالَ اِنَّكَ الْيَوْمَ لَدَيْنَا مَكِيْنٌ اَمِيْنٌ ۝۵۴ قَالَ اجْعَلْنِيْ عَلٰي خَزَاۗىِٕنِ الْاَرْضِ ۚ اِنِّىْ حَفِيْظٌ عَلِيْمٌ ۝۵۵ وَكَذٰلِكَ مَكَّنَّا لِيُوْسُفَ فِي الْاَرْضِ ۚ يَتَبَوَّاُ مِنْهَا

اوځه دَځپل ځان پاکی نه وایم یقیناً نفس ډیر خودونکے دَبدئے دے مګر هغه چه رحم اوکړی رب ځما په هغه باندے یقیناً رب ځما بخنه کوونکے رحم کوونکے دے (۵۳) او اُوئیل بادشاه راولئ ماته دے چه خاص ئے کړم دپاره دَ (کار) دَځان پس هرکله چه خبرے ورسره اوکړے اُوئیل بادشاه یقیناً ته دَنن نه زمونږ په نیز مرتبے والا امانت دارئے (۵۴) اُوے هغه مقرر کړه ماپه خزانو دَزمکے دَ مصر یقیناً ځه ساتونکے او پوهه یم په تدبیر باندے (۵۵) او دغسے ورکړے وو مونږ یوسف(علیه السلام) ته په زمکه کښ ځائے جوړه وو به دَهغے نه چه

[۵۳] داهم داخل دے په قول دَ زلیخا کښ۔

فائده۱: بعضومفسرینودا دواړه آیتونه قول دَ یوسف علیه السلام ګرځولے دے لیکن دا صحیح نه ده ځکه چه یوسف علیه السلام تر دغه وخته پورے دَ جیل نه راوتلے نه وو ۔او هم دا رنګ ذکرکړی دی ابن کثیراوقرطبی اوشیخ الاسلام ابن تیمیه رحمة الله علیهم وغیره۔

فائده۲: په دے آیت کښ اشاره ده چه نفس درے قسمه دے۔ په اعتبارد صفاتوسره یعنی یونفس دے اوپه درے صفتونوسره تقسمیږی اول قسم ﴿لَاَمَّارَةٌۢ بِالسُّوْٓءِ﴾ دے اوداصراحتاً ذکردے۔ اودویم قسم نفس لوامة دے هغے ته اشاره ده په لفظ دَ ﴿غَفُوْرٌ﴾ سره۔اودریم قسم نفس مطمئنة دے هغے ته اشاره ده په لفظ دَ ﴿رَحِيْمٌ﴾ سره ﴿اِلَّا مَا﴾ په معنی دَ مَن سره دے ﴿رَحِمَ﴾ مراد دَرحمت نه عصمت دے۔

[۵۴] په دے آیت کښ طلب دَ بادشاه دے یوسف علیه السلام لره په دویم ځل لیکن هرکله چه معلومه شوه بادشاه ته پاکدامنی دَ یوسف علیه السلام اوعلم اوصبر دَ هغه نو زیات ئے کړودا لفظ چه ﴿اَسْتَخْلِصْهُ لِنَفْسِيْ﴾ دپاره دَ عزت اودَ اکرام دَ هغه۔او هرکله چه هغه راغے او ورسره خبرے او شوے نو دَهغه دَ خبرو تاثیر اوشو په بادشاه باندے نو هغه ئے دَ ځان سره په اقتدار او مکانت کښ شریك کړو۔

[۵۵] په دے آیت کښ یوسف علیه السلام تعیین کړیدے دَ منصب مناسب پس دَهغے نه چه بادشاه دهٔ ته عام مکانت اوسپارلواو یوسف علیه السلام دَ ځان دَ پاره دَ اول نه طلب دَ مرتبے نه دے کړے نو په دے آیت سره دلیل نیول دَ هغه چا دَ پاره صحیح نه دی چه دَ ځان دَ پاره اقتدار طلب کوی ځکه چه په صحیح حدیث سره ثابت دی چه رسول الله ﷺ دَ طلب دَ امارت نه منع فرمائیلے ده ﴿اِنِّىْ حَفِيْظٌ عَلِيْمٌ﴾ دا ذکردَعلت دے دَ پاره دَ تخصیص دَ منصب دا تزکیه دَ نفس نه ده ځکه چه الله تعالیٰ دَ تزکښے دَ نفس نه منع فرمائیلے ده او که تزکیه شی نوهم انبیاء علیهم السلام دَپاره جائز ده په قرینه دَ دے قول دَ الله تعالیٰ (هواعلم بمن التقیٰ) روستودَ دے نه چه فلاتزکوا انفسکم اودا په سورة نجم کښ راځی۔

حَيْثُ يَشَآءُ ؕ نُصِيْبُ بِرَحْمَتِنَا مَنْ نَّشَآءُ وَلَا نُضِيْعُ اَجْرَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۵۶﴾ وَلَاَجْرُ الْاٰخِرَةِ خَيْرٌ لِّلَّذِيْنَ
اٰمَنُوْا وَكَانُوْا يَتَّقُوْنَ ﴿۵۷﴾ ع وَجَآءَ اِخْوَةُ يُوْسُفَ فَدَخَلُوْا عَلَيْهِ فَعَرَفَهُمْ وَهُمْ لَهٗ مُنْكِرُوْنَ ﴿۵۸﴾
وَلَمَّا جَهَّزَهُمْ بِجَهَازِهِمْ قَالَ ائْتُوْنِيْ بِاَخٍ لَّكُمْ مِّنْ اَبِيْكُمْ ۚ اَلَا تَرَوْنَ اَنِّيْٓ اُوْفِي الْكَيْلَ وَاَنَا خَيْرُ

کوم ځائے به ئے خوښه وه رسوو مونږ خپل رحمت هغه چاته چه اوغواړو اونه برباد وو مونږ بدله ډَخائسته عمل کوونکو(۵۶) اوخامخا بدله ډَآخرت غوره ده هغه چاڅه چه ایمان ئے راوړے وی اوتقویٰ لری (۵۷) او راغله رونړه ډَیوسف(علیه السلام) پس داخل شول هغه ته پس هغه او پیژندل او دوی هغه لره نا اشنا ګنړونکی وو (۵۸) اوهرکله چه تیار کړو هغه دوئ لره سامان ډَسفر ډَ دوئ اُوئیل هغه راولئ ماته رورستاسو چه ستا سو ډَپلارنه دے آیاتاسو نه ګورئ چه ځه پوره ورکوم راشن اوځه ښه

[۵۶] په دے آیت کښ ذکرډَ انعام ډَ تمکین دے په یوسف علیه السلام باندے پس ډَ صبر کولو ډَ هغه نه په مصیبتونو باندے ﴿وَكَذٰلِكَ﴾ کښ تیرشوی نعمتونوته اشاره ده ډَکوهی اوډَ جیل نه راویستل اوډَ بادشاه په زړه کښ ډَ هغه عزت اچول ﴿مَكَّنَّا لِيُوْسُفَ فِي الْاَرْضِ﴾ په ایت(۲۱) کښ ډَ دے تمکین دپاره یو ذریعه ذکر کړے وه یعنی په کور ډَ عزیز مصر کښ ځائیے ورکول او په دے ایت کښ په زمکه ډَ مصر کښ تمکین مراد دے ډَ دے وجے نه ورپسے ئے اوفرمائیل﴿يَتَبَوَّاُ مِنْهَا حَيْثُ يَشَآءُ﴾ اوپه دے کښ اشاره ده چه بادشاه عام اختیارات ډَ ملك هغه ته اوسپارل ﴿بِرَحْمَتِنَا﴾ډَ دُنیا بادشاهی اومالداری چه ډَ دین دپاره استعمالیږی دا هم رحمت دے ﴿وَلَا نُضِيْعُ اَجْرَ الْمُحْسِنِيْنَ﴾ پدے کښ عام بشارت دے هغه چاته چه صبراوکړی په مصیبتونو او ځان بچ کړی ډَناروا کارونونه۔

[۵۷] هرکله چه ذکرشوانعام دُنیوی په تیرشوی ایت کښ نوذکرئیے کړوپدے ایت کښ اجرډَ اخرت دپاره ډَ ترهید فی الدنیا﴿خَيْرٌ لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا﴾ پدے کښ اشاره ده چه خیرډَ اخرت صرف په ایمان او تقویٰ سره حاصلیږی اوخیرډَ دُنیا عام دے مؤمن اوغیرمؤمن دواړه دپاره دے۔

فائده: محقیقینواومفسرینو لیکلی دے چه عزیز مصر مرشو یا ډَ خپل منصب نه معزول کړے شواو ډَ هغه په ځائے یوسف علیه السلام مقررکړے شو اوبادشاه ډَ مصرایمان راوړو اوډَ زلیخا سره نکاح ډَ یوسف علیه السلام اوډَ هغے دوباره ځوانیدل ثابت نه دی په صحیح روایت سره۔

[۵۸] ډَ دے آیت نه اُوم مقام دے تر ایت اته شپیتهٔ پورے په دے کښ ذکرډَ راتللو ډَ رونړو ډَ یوسف علیه السلام دے په اول ځل او سبب جوړول ډَ یوسف علیه السلام دی دویم ځل راتللوته په طلب کولو ډَ ورور خپل چه نوم ډَ هغه بنیامین وو۔ او په واپس کولو ډَ قیمت ډَ هغوی هغوی ته۔ اوبیا تعلیم ډَ پلار دے ځامنو ته ډَ طریقے ډَ دویم ځل ډَ تللو ډَ پاره ډَ دفع ډَ ضرر ۔ هرکله چه زمانه ډَ قحط شروع شوه او اثرډَ قحط کنعان ته او رسید او یوسف علیه السلام ډَ غلے لوئے ستاك جمع کړے وو او په مصر کښ یوسف علیه السلام په ښه تدبیر سره تقسیم ډَ غلے شروع کړے وو او ډَ یو شخص ډَ پاره چه حاضر به وو یو ګیل غله په مناسب قیمت مقرر وه نو دا خبر یعقوب علیه السلام ته اورسیدونوهغهٔ لس ځامن را اولیږل۔ په دے آیت (۵۸)کښ ډَ هغوی راتلل ذکردی اوهر کله چه په یوسف علیه السلام کښ فراست ډَ نبوت موجود وو نو دوی ئے اوپیژندل۔ اوډَ رونړو ډَ یوسف علیه السلام

الْمُنْزِلِيْنَ ﴿۵۹﴾ فَاِنْ لَّمْ تَاْتُوْنِيْ بِهٖ فَلَا كَيْلَ لَكُمْ عِنْدِيْ وَلَا تَقْرَبُوْنِ ﴿۶۰﴾ قَالُوْا سَنُرَاوِدُ عَنْهُ اَبَاهُ وَاِنَّا لَفٰعِلُوْنَ ﴿۶۱﴾ وَقَالَ لِفِتْيٰنِهِ اجْعَلُوْا بِضَاعَتَهُمْ فِيْ رِحَالِهِمْ لَعَلَّهُمْ يَعْرِفُوْنَهَآ اِذَا انْقَلَبُوْٓا اِلٰٓى اَهْلِهِمْ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿۶۲﴾ فَلَمَّا رَجَعُوْٓا اِلٰٓى اَبِيْهِمْ قَالُوْا يٰٓاَبَانَا مُنِعَ مِنَّا الْكَيْلُ فَاَرْسِلْ مَعَنَآ

میلمستیا ورکوونکے یم (۵۹) پس که تاسو هغه رانه وستو پس نیشته ستاسو راشن زما سره اونزدے کیږئ مه زما وطن ته(۶۰) اووے دوئ په غوَلولو سره به ئے طلب کوو دَپلارنه اویقیناً مونږبه داکار کوو(۶۱) او اوے یوسف(علیه السلام) خدمتګارانوته واچوئ دَ دوی قیمت (اداکړے شوے) په سامان دَ دوئ کښ دَ دے دپاره چه دوئ ئے اوپیژنی کله چه دوئ واپس لاړشی خپلوانوته شاید چه دوئ واپس راشی(۶۲) پس هرکله چه واپس او رسیدل دوئ پلارته اوے دوئ اے زمونږ پلاره منع کړے شوے دے زمونږنه راشن پس اولیږه زمونږ سره

فراست کم وو او دائیے په خیال کښ نهٔ راتله چه یوسف علیه السلام به دے مقام ته رسیدلے وی نو دوی هغه او نه پیژندو اګر چه هغه سره مخامخ شویوؤ۔

[۵۹] هرکله چه دوی دَ یوسف علیه السلام نه دَ غائب وروردپاره چه هغه بنیامین وو، حِصه طلب کړه نوهغه ورته اُوئیل چه چونکه غائب ته حصه نهٔ ملاویږی نوهغه ورور ستاسوحاضرکړئ اودَ هغه دَ حاضر ولو ترغیب ئے ورکړوپه دے جملے سره ﴿اَنِّيْٓ اُوْفِي الْكَيْلَ وَاَنَا خَيْرُ الْمُنْزِلِيْنَ﴾﴿ مِنْ اَبِيْكُمْ﴾ یعنی دوی ورته وئیلی ووچه هغه زمونږعلّاتی رور دے مورئے زمونږنه جدا ده۔

[۶۰] په دے آیت کښ هم ترغیب ورکول دی دَ هغه په حاضرولوپه ډیر تاکید اوتخویف سره۔ اوهغه دا دے چه که تاسو دے حاضرنه کړونو تاسوبه دروغژن او دهوکه مار ثابت شئی نو دوباره به تاسوته هم غله ملاؤ نشی اونه به دے ملك دَ مصرته راځئ۔

فائده: طلب کول دَ یوسف علیه السلام خپل ورور بنیامین لره اودَ هغه دَ حاضرولواوبیا دَ ځان سره دَ ایسار ولو طریقے جوړول دا ټول په حکم دَ اللّٰه سره ووـ اګر چه یعقوب علیه السلام ته په دے باندے تکلیف رسیدو۔

[۶۱] په دے ایت کښ وعده دَ هغه ورونړو ذکر ده په باره دَحاضرولودَ بنیامین کښ دَ وجے دَ مجبورئ نه ځکه چه دوباره راشن نهٔ میلاویږی ﴿سَنُرَاوِدُ﴾ مراوده وئیلے شی طلب کول په تدبیر اوحیلے سره۔ ځکه چه بغیرد تدبیرنه پلارئیے دوی ته نه حواله کوی۔

[۶۲] په دے ایت کښ ذکردے دَ هغه طریقے چه یوسف علیه السلام جوړه کړه دپاره دَ حاضرولو دَ رور خپل اوهغه طریقه دا وه چه حکم ئے اوکړو خادمانوته چه دَ دوی قیمت دَ دوی په سامان کښ واپس کیږدئے۔ ﴿لَعَلَّهُمْ يَعْرِفُوْنَهَآ﴾ دَ دے یوتوجیه دا ده چه چونکه کورنئی دَ یعقوب علیه السلام طعام بے پیسونه اخلی نوهرکله چه دا پیسے واپس کړے شوے اُوینی نو پلار به دا ځامن دوباره مصرته رالیږی دَ قیمت دَ واپس کولودَ پاره نوضروربه ځان سره بنیامین راولی، دویمه توجیه دا ده چه یوسف علیه السلام ته په څه ذریعه سره معلومه شوے وه چه په کوردَ یعقوب علیه السلام کښ نورمال نیشته نو په دوباره راتللو قدرت نه لری، نو یوسف علیه السلام دا قیمت دَ احسان دَ وجے نه واپس کړو او دا قسم احسان حاکمانولره دَ خپلوانومحتاجانوسره جائز دے او امام

اَخَانَا نَكْتَلْ وَاِنَّا لَهٗ لَحٰفِظُوْنَ ﴿۶۳﴾ قَالَ هَلْ اٰمَنُكُمْ عَلَيْهِ اِلَّا كَمَآ اَمِنْتُكُمْ عَلٰٓى اَخِيْهِ مِنْ قَبْلُ ؕ فَاللّٰهُ
خَيْرٌ حٰفِظًا ۪ وَّهُوَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِيْنَ ﴿۶۴﴾ وَلَمَّا فَتَحُوْا مَتَاعَهُمْ وَجَدُوْا بِضَاعَتَهُمْ رُدَّتْ اِلَيْهِمْ ؕ قَالُوْا
يٰٓاَبَانَا مَا نَبْغِيْ ؕ هٰذِهٖ بِضَاعَتُنَا رُدَّتْ اِلَيْنَا ۚ وَنَمِيْرُ اَهْلَنَا وَنَحْفَظُ اَخَانَا وَنَزْدَادُ كَيْلَ بَعِيْرٍ ؕ
ذٰلِكَ كَيْلٌ يَّسِيْرٌ ﴿۶۵﴾ قَالَ لَنْ اُرْسِلَهٗ مَعَكُمْ حَتّٰى تُؤْتُوْنِ مَوْثِقًا مِّنَ اللّٰهِ لَتَاْتُنَّنِيْ بِهٖٓ اِلَّآ اَنْ

زمونږ رور چه راشن راوړو او یقیناً مونږ به د دهٔ حفاظت کوو(٦٣) اُوے دهٔ ایا اعتبار اوکړم په تاسو باندے د دهٔ په باره کښ مګر لکه چه اعتبار مې کړے وو په تاسو د دهٔ دَورور په باره کښ د دے نه پخوا پس اللّٰه تعالیٰ ښه حفاظت کوونکے دے اوهغه زیات مهربان دے دَنورو مهربانی کوونکو نه (٦٤) اوهر کله چه دوئ پرانستل سامانونه خپل او اومونتلو ئے قیمت خپل چه واپس کړے شوے وو دوئ ته اووے دوئ اے پلاره مونږ لانورځه اوغواړو دازمونږ قیمت دے واپس کړے شوے دے مونږته اوغله به راوړو خپل کورنئ دپاره او حفاظت به کوو د رور خپل او زیات به راوړو بار د اوښ دا راشن (پیمانه) لږ دے(٦٥) اوے یعقوب(علیه السلام) هیڅرے نه لیږم دے تاسو سره تردے چه راکړئ ماته پوخ لوظ د اللّٰه تعالیٰ په نوم چه ضرور به دے ماته راولئ مګر که

بخاری د دے د پاره باب ذکر کړے دے او د دے قیمت په پته واپس کولو کښ حکمت دا وو چه یوسف(علیه السلام) ته معلومه وه چه کورنئے د یعقوب(علیه السلام) د ډیر شرافت د وجے نه داسے عطیئے نه قبلوی ﴿لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ﴾ غایه ده د يَعْرِفُوْنَهَا دَپاره۔

[٦٣] هرکله چه دوباره غله راوړل ضروری وو اود بنیامین بوتلل د هغے دپاره شرط وو نو د سامان پرانستلونه واړندے ئے د رورمطالبه د پلارنه اوکړه اود هغے وجه ئے ذکرکړله چه ﴿مُنِعَ مِنَّا الْكَيْلُ﴾ اومنع مشروط وه په رورنه راوستلوپورے ﴿نَكْتَلْ﴾ دائیے د دے وجے نه اُوئیل چه کیل د ټولوئیے مشروط کړے ووپه رورحاضرولوپورے۔

[٦٤] مراد د دے ایت دا دے چه یعقوب(علیه السلام) د هغوی مطالبه مجبورًا اومنله د وجے د ضرورت د غلے نه یا د دے وجے نه چه دغه رونړو د یوسف(علیه السلام) په شان حسد د دے رور سره نکوؤ۔ او قیاس ئے اوکړو په تیره شوے واقعه باندے چه په باره د یوسف(علیه السلام) کښ ما اعتماد کړے وو په تاسو باندے نواوس هم هغسے اعتماد په تاسو کوم لیکن مخکښ مې باور کړے وو په حفاظت ستاسو او اوس په حفاظت د اللّٰه تعالیٰ اعتماد او باورکوم۔

[٦٥] هرکله چه دوی ته تسلی حاصله شوه د پلارد طرف نه۔ نوسامان ئے پرانستواوقیمت ئے بیا اومندلونوخوشحالی ئے بنکاره کړه اووے وئیل چه ﴿مَا نَبْغِيْ﴾ د دے یوه توجیه دا ده چه مونږد دے نه زیات احسان نه غواړو محکه چه مونږ له ئے غلهٔ پوره راکړے ده۔ او قیمت ئے هم واپس کړے دے پدے توجیه سره مَا، د استفهام د تعجب دے، دویمه توجیه دا ده چه اے پلاره زمونږستانه نورقیمت نه غواړودا واپس کړے شوے مونږله کافی دے په دے توجیه سره مَا، دپاره د نفی دے ﴿ذٰلِكَ كَيْلٌ يَّسِيْرٌ﴾ ذالك اشاره ده کیل د وروړته چه دا په بادشاه باندے اسان کار دے یا اشاره ده ټول راشن ته چه دوی را وړے دے او یسیر په معنیٰ د لګ سره دے۔

يُّحَاطَ بِكُمْ ۚ فَلَمَّآ اٰتَوْهُ مَوْثِقَهُمْ قَالَ اللّٰهُ عَلٰى مَا نَقُوْلُ وَكِيْلٌ ﴿٦٦﴾ وَقَالَ يٰبَنِيَّ لَا تَدْخُلُوْا مِنْۢ بَابٍ
وَّاحِدٍ وَّادْخُلُوْا مِنْ اَبْوَابٍ مُّتَفَرِّقَةٍ ؕ وَمَآ اُغْنِيْ عَنْكُمْ مِّنَ اللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ ؕ اِنِ الْحُكْمُ اِلَّا لِلّٰهِ ؕ
عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ ۚ وَعَلَيْهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُتَوَكِّلُوْنَ ﴿٦٧﴾ وَلَمَّا دَخَلُوْا مِنْ حَيْثُ اَمَرَهُمْ اَبُوْهُمْ ؕ مَا كَانَ

راکیر کړے شوئ تاسو پس هرکله چه دوئ ورکړو هغه ته لوظ پوخ اُوے هغه اللّٰه تعالیٰ زمونږ په وینا ذمه وار دے (٦٦) او اُوئیل دهٔ اے بچوزما مه ورننوزئ دَیوے دروازے نه او ورننوزئ دَ دروازو کنړونه اوځه نشم اړولے ستاسونه دَ اللّٰه تعالیٰ (دَ مصیبت نه) هیڅ شے نه دے واك (اختیار) مګر صرف اللّٰه تعالیٰ لره دے ماپه هغه باندے ځان سپارلے دے اوپه هغه باندے دِ خاص ځان اوسپاری ځان سپارونکی (٦٧) اوهرکله چه دوئ ورننوتل دَهغے دروازونه چه امرکړے وو ورته پلار دَ دوئ نه وو هغه

[٦٦] مراد دَ دے ایت دا دے چه یعقوب علیه السلام دَ ځامنونه منع نه ده کړے بلکه مضبوطه وعده ئے طلب کړه او هغوی ورسره هم وعده اوکړه اودَپاره دَ تاکید یعقوب علیه السلام دا کلمه اُوئیله چه ﴿اللّٰهُ عَلٰى مَانَقُوْلُ وَكِيْلٌ﴾ او ﴿اِلَّآاَنْ يُّحَاطَ بِكُمْ﴾ کښ مطلب دا دے چه که تاسو ټول راکیرکړے شوئے نو پرواه نیشته که بنیامین ستاسوسره کیر شی اوچه تا سو روغ اوسالم ئے او صرف بنیامین راکیرکړے شی نودائځه نه شم منلے ﴿وَكِيْلٌ﴾ په صفت دَ اللّٰه تعالیٰ کښ معنیٰ دا ده چه هغه باندے توکل کیدلے شی یا په معنیٰ دَ حافظ سره دے۔

[٦٧] هرکله چه هغوی قصد اوکړو دَ سفرکولو مصرته نویعقوب علیه السلام هغوی ته ادب اوطریقه اوښودله چه دَ یوے دوازے نه مه داخلیږئ او دروازے نه مراد دَ ښار دروازے دی یا مراد ترینه لارے دی دَ دے یو وجه داوه چه په دوی باندے بدنظر اونه لګی ځکه چه دوی لوئے جماعت وؤ او ښائسته هیئت او شکل ئے لرلو۔ او صحیح احادیث دلالت کوی په دے چه نظر لګیدل حق دی۔ اوپه احادیثو کښ دَ نظرِ بد دَ دفع کولو دَ پاره رقیات او دمونه او مختلف شرعی طریقے هم ذکر دی ۔ لیکن دَ دفع دَ نظردَ پاره غیرشرعی طریقے او ټوټکے کول منع دی لکه وشم (خال لګول) او ابن قتیبه اوخازن ذکرکړی دی چه په وخت دَ نظرکښ دَ ستر کودَ ناظرنه څه زهریلی جراثیم را ووځی په معیون (نظرکړے شوی) باندے اولږی اودا ټول په قدرت دَ اللّٰه تعالیٰ سره دی۔ او دویمه وجه دَ دے تدبیردا ده چه دوی لوئے جماعت دے په دویم کرت مصرته ځی هسے نه چه مصر والا حسد اوکړی چه دے خلقو زمونږغله خلاصه کړه نودَ دفعے دَ حسد دَپاره دا تدبیر ئے اوخودلو ﴿وَمَآ اُغْنِيْ عَنْكُمْ مِّنَ اللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ﴾ دا ښکاره دلیل دے په دے خبره چه انبیاء علیهم السلام دَ هیڅ چانه ضرر او مصیبت نه شی دفع کولے اګر چه ژوندی وی۔ نونوراولیاء اوبزرګان به پس دَ مرګ نه څه رنګے دَ چا امداد اوکړیشی ﴿اِنِ الْحُكْمُ اِلَّا لِلّٰهِ﴾ حکم دوه قسمه دے یوحکم تکوینی یعنی تصرفات اواختیارات اودویم حکم تشریعی یعنی تحلیل او تحریم کول او شرع جوړول دا دواړه په اللّٰه تعالیٰ پورے خاص دی په دے کښ دَ اللّٰه تعالیٰ سره هیڅوك شریك نه شی جوړیدے ﴿عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ﴾ پدے آیت کښ ئے تدبیرنه روستو امر دَ توکل کړے دے اشاره ده چه توکل سرهٔ دَ استعمال دَ اسبابو دے دَ اسبابو سره هیڅ منافات نیشته۔

يُغْنِيْ عَنْهُمْ مِّنَ اللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ اِلَّا حَاجَةً فِيْ نَفْسِ يَعْقُوْبَ قَضٰىهَا ۭ وَاِنَّهٗ لَذُوْ عِلْمٍ لِّمَا
عَلَّمْنٰهُ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۶۸﴾ وَلَمَّا دَخَلُوْا عَلٰي يُوْسُفَ اٰوٰٓى اِلَيْهِ اَخَاهُ قَالَ اِنِّىْٓ اَنَا
اَخُوْكَ فَلَا تَبْتَىِٕسْ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۶۹﴾ فَلَمَّا جَهَّزَهُمْ بِجَهَازِهِمْ جَعَلَ السِّقَايَةَ فِيْ رَحْلِ
اَخِيْهِ ثُمَّ اَذَّنَ مُؤَذِّنٌ اَيَّتُهَا الْعِيْرُ اِنَّكُمْ لَسٰرِقُوْنَ ﴿۷۰﴾ قَالُوْا وَاَقْبَلُوْا عَلَيْهِمْ مَّاذَا تَفْقِدُوْنَ ﴿۷۱﴾

چه اړولے وے د دوئ نه د الله تعالیٰ (د مصیبت نه) هیڅ شے لیکن یو ارمان وو په زړه د یعقوب(علیه السلام) کښ چه پوره ئے کړو او یقیناً هغه د علم خاوند وو د دے وجے نه چه علم ورکړے مونږ هغه ته اولیکن ډیر خلق نه پوهیږی (٦٨) اوهرکله چه دوئ ورننوتل په یوسف(علیه السلام) باندے جدائے کړو د ځان سره وروړ خپل اُوئیل ورته یوسف(علیه السلام) یقیناً څه ستا وروریم پس خفه کیږه مه په هغه کارونو چه دوئ ئے کوی(٦٩)اوهرکله چه تیارئے کړو سامان د دوئ نو کیخودو ئیے جام په سامان د وروړ خپل کښ بیا اوچت آواز اوکړو آواز کوونکی اے قافلے والو یقیناً تاسو غلاګر ئیے (٧٠) دوئ اوے او مخامخ شول هغوئ ته چه څه روک کړیدی تاسو(٧١)

[٦٨] په دے آیت کښ دلیل دے په دے خبره چه تدبیرد انسان د تقدیرمقابله نه شی کولے ﴿مَاكَانَ يُغْنِيْ عَنْهُمْ﴾ دا تصدیق دے د طرف د الله تعالیٰ نه د کلام د یعقوب علیه السلام چه وَمَا اغنی عنکم چه معلومه شی چه دَهغه قول صرف تواضع نه وه بلکه حقیقت وو ﴿لَذُوْ عِلْمٍ﴾ دلته مراد د علم نه دا دے چه په تدبیر سره تقدیر نه دفع کیږی اګرچه تدبیر شرعی کول لازم دی ﴿لَايَعْلَمُوْنَ﴾ په دے کښ هغه خلق مراد دی چه اسباب اوتدبیرخپل مؤثرحقیقی ګڼری۔

[٦٩] د دے ځائے نه اتم مقام دے ترنهه اویایم (٧٩) پورے۔ په دے مقام کښ حاضرول د یوسف علیه السلام دی وروړخپل لره د ځان سره اوبیا تدبیرکول دی په کیخودلود سِقَايَةَ (لوښی) سره په سامان د هغه کښ او تهمت لګول په هغه باندے په غلاسره اوحکم کول د هغه په غلام کولوتریوکال پورے۔ او ویزاره کیدل د وروړود هغه نه اوتهمت لګول د دے وروړو په یوسف علیه السلام باندے د غلا کولو او طلب د دوی نجات د وروړ د یوسف علیه السلام نه۔ اوجواب د یوسف علیه السلام دوی ته ذکرشوے دے، په دے (٦٩) آیت کښ دوباره راتلل د وروړود یوسف علیه السلام ذکردی بیا یوسف علیه السلام هغه ځان ته را اوبللو اوهغه ته ئیے راز ښکاره کړو۔ اوځان ته ئیے ځکه را اوبللو چه یقین اوکړی چه دا زما رور دے او هغه له هم تسلی ورکړی او معلومیږی چه هغه لره ئیے خبر ورکړو په دغه تدبیرد پاتے کولوسره ﴿فَلَاتَبْتَئِسْ بِمَاكَانُوْا يَعْمَلُوْنَ﴾ په دے کښ اشاره ده چه دے وروړوپس د ځدایئی د یوسف علیه السلام نه بنیامین ته تکلیفونه رسول۔

[٧٠] سِقَايَة او صُوَاع: د یو لوښی دوه نومونه وو ځکه چه په دے لوښی شراب هم څښکلے کیدل اوپه دے پیمانه د طعام هم کیدے شوه ﴿اِنَّكُمْ لَسَارِقُوْنَ﴾ په دے کښ یوه توجیه دا ده چه اعلان کوونکی دا آواز د خپل ځان نه کړے وو اوپه هغوی باندے ئیے تهمت د غلا په خپل غالب ګمان سره لګولے وو۔ دویمه توجیه دا ده چه دا آواز ئیے د یوسف علیه السلام په حکم سره کړے وو۔ او اِنَّكُم لَسَارِقُوْنَ، په طریقه د تَورِ ئیے سره دے یعنی همزه (ء) د استفهام پکښ محذوف دے۔ یا داچه تاسو یوسف علیه السلام پټ کړے دے د پلارنه

قَالُوْا نَفْقِدُ صُوَاعَ الْمَلِكِ وَلِمَنْ جَآءَ بِهٖ حِمْلُ بَعِيْرٍ وَّاَنَا بِهٖ زَعِيْمٌ ﴿۷۲﴾ قَالُوْا تَاللّٰهِ لَقَدْ عَلِمْتُمْ
مَّا جِئْنَا لِنُفْسِدَ فِي الْاَرْضِ وَمَا كُنَّا سٰرِقِيْنَ ﴿۷۳﴾ قَالُوْا فَمَا جَزَآؤُهٗٓ اِنْ كُنْتُمْ كٰذِبِيْنَ ﴿۷۴﴾ قَالُوْا
جَزَآؤُهٗ مَنْ وُّجِدَ فِيْ رَحْلِهٖ فَهُوَ جَزَآؤُهٗ ؕ كَذٰلِكَ نَجْزِي الظّٰلِمِيْنَ ﴿۷۵﴾ فَبَدَاَ بِاَوْعِيَتِهِمْ قَبْلَ وِعَآءِ

دوئ اُوئیل روکه کړیده مونږ پیمانه دَبادشاه اوهغه چاچه راوړه هغه نو هغه لره باردَ اوښ دے (په انعام کښ) اوځه دَ دے ذمه واریم (۷۲) دوئ اُوئیل قسم په اللّٰه تعالیٰ تاسوښه پوهه ئے مونږ دے له نه یو راغلی چه روانے دے اوکړو په دے ملك کښ اونه مونږ غلاګریو (۷۳) دوئ اُوئیل پس څه سزاده دَغل که تاسو دروغ وائے (۷٤) دوئ اُوئیل سزا دَغل هغه کس دے چه اومونډلے شی په سامان دَهغه کښ پس هغه ئے سزاده دغه شان سزا ورکوو مونږ ظالمانوته (غلاګروته)(۷۵) پس شروع اوکړه په سامانونو دَهغوئ واړندے دَ سامان

خودے کښ غوره اوله توجیه ده۔

[۷۱] هرکله چه دوی دَ خپلے پوهے مطابق غلانهٔ وه کړے نو ځکه هغوی ته مخامخ شول اوتپوس ئے اوکړو۔

[۷۲] په دے آیت کښ دلیل دے په جواز دَ انعام مقررولوپه یوجائزکاربانډے اودلیل دے په جواز دَ کفالت باندے۔ سوال: دَ غلاکوونکی دَ پاره کفالت او انعام ورکول خو جائز نه دی؟ جواب(۱): دا قول دَ هغوی په امردَ یوسف علیه السلام سره وؤاوهغه ته معلومه وه چه دوی غلانه وه کړے دَ دے وجے نه جَاءَ بِهٖ ئے وئیلے دے سَرَقَ ئے نه دے وئیلے۔جواب(۲): لِمَن جَاءَ نه مراد هغه څوك دے چه خبر راوړی چه صواع دَ فلانکی سره ده۔

[۷۳] په دے ایت کښ جواب دَ هغوی دے په برائت دَ خپل ځان سره دَ غلا اوفسادنه ﴿تَاللّٰهِ﴾ تاپه قسم کښ په اسم اللّٰه پورے خاص ده او دَتعجب یا مبالغے په ځائے استعمالیږی ﴿لَقَدْ عَلِمْتُمْ﴾ کښ اشاره ده چه مخکښ دَ دے نه دوی په مصر کښ هیڅ خیانت او ظلم نه وو کړے دَ خپلواوښانو خُلے ئے ترلے وے د پاره دَ دے خبرے چه دَ چا فصل او نه خوری۔

[۷٤] یعنی هغوی ورته اوئیل چه کهٔ ستاسودروغ ثابت شی نودَ غل سزا به څهٔ وی دا تپوس په تعلیم دَ یوسف علیه السلام سره وو دَ خپل ورور دَ ایسارولو دَ پاره ګنی نو دَ مجرم نه دَ سزا تپوس نهٔ شی کیدے۔ اودارنګ دَ هغوی وهم دفع کوی چه هغوی وهم اونکړی چه تاسومونږ قصدًا غلاګرثابتوئے دپاره دَ دے مونږله په خپل قانون سزا راکړئے۔

[۷۵] یعنی په دین دَ یعقوب علیه السلام کښ دَ غل سزا داوه چه هغه به تر یوکال پورے مرئیے ګرځولے کیدو دپاره دَ مالك دَ مال اوقانون دَمصردا ووچه دَ غل نه به دو چند تاوان اخستلے کیدو ﴿الظّٰلِمِيْنَ﴾ ظلم نه مراد غلا ده سزائیے په شریعت دَ یعقوب علیه السلام سره غوره کړه په وحی دَ اللّٰه تعالیٰ سره نودا ناسخ شوه دَ پاره دَ سزا ورکولوپه قانون دَ مصرکښ یا دا چه اولاد دَ یعقوب علیه السلام مکلف وؤ په شریعت دَ یعقوب علیه السلام او مکلف نه وؤ په قانون دَ مصر سره۔

اَخِيْهِ ثُمَّ اسْتَخْرَجَهَا مِنْ وِّعَآءِ اَخِيْهِ ؕ كَذٰلِكَ كِدْنَا لِيُوْسُفَ ؕ مَا كَانَ لِيَاْخُذَ اَخَاهُ فِيْ دِيْنِ الْمَلِكِ اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ ؕ نَرْفَعُ دَرَجٰتٍ مَّنْ نَّشَآءُ ؕ وَفَوْقَ كُلِّ ذِيْ عِلْمٍ عَلِيْمٌ ﴿۷۶﴾ قَالُوْٓا اِنْ يَّسْرِقْ فَقَدْ سَرَقَ اَخٌ لَّهٗ مِنْ قَبْلُ ۚ فَاَسَرَّهَا يُوْسُفُ فِيْ نَفْسِهٖ وَلَمْ يُبْدِهَا لَهُمْ ۚ قَالَ اَنْتُمْ شَرٌّ مَّكَانًا ۚ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا تَصِفُوْنَ ﴿۷۷﴾ قَالُوْا يٰٓاَيُّهَا الْعَزِيْزُ اِنَّ لَهٗٓ اَبًا شَيْخًا كَبِيْرًا فَخُذْ اَحَدَنَا

دَ وروړنه بیائے را اوخکو هغه لوڅے دَسامان دَ وروړخپل نه دغه شان طریقه خودلے ده مونږ یوسف(علیه السلام) ته نه وو دے چه راتینګ کړے وے روړ خپل په قانون دَ بادشاه کښ مګر کیږی هغه چه اللّٰه تعالیٰ اوغواړی پورته کړو مونږ درجے دَهغه چاچه اوغواړو مونږ او پورته دَهرخاوند دَعلم نه لوئے عالم شته دے (۷۶) اوئیل دوئ که دهٔ غلا کړے وی (نو عجیبه نه ده) ځکه چه غلا کړے وه وروړ دَ دهٔ پخوا دَ دے نه پس پټ اوساتلو یوسف(علیه السلام) دَ دے جواب په خپل زړه کښ اوښکاره ئے نکړو دوئ ته هغه اُوئیل تاسو دَ دے نه زیات بدتر حال والائے او اللّٰه ښه پوهه دے په هغه باندے چه تاسوئے بیانوئ (۷۷)دوئ اُوئیل اے عزیز یقیناً دَ دهٔ پلار دے مشر ډیر بوډا پس اونیسه بل تن زمونږه

[۷۶] دَ نورو رونړوپه سامان لټولو ئے اول شروع اوکړه چه دوی چرته شکیان نهٔ شی چه ګنی دا لوښے دوی پخپله ایښے دے ﴿كَذٰلِكَ كِدْنَا لِيُوْسُفَ﴾ دا جواب دَ هغه شبهے دے چه یوسف(علیه السلام) په دے طریقے سره پلارته تکلیف ورکړو او وروړ ئے هم بدنام کړواوداخوشرعًا جائزنه دی؟ دَ جواب حاصل دا دے چه دا تدبیراللّٰه تعالیٰ یوسف(علیه السلام) ته بښودلے وؤ یوسف(علیه السلام) دَ ځان نه نهٔ وؤ کړے اوبل دلیل دَ دے اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ دے چه دا کار په مشیت شرعی دَ اللّٰه تعالیٰ سره وؤ ـ بیا که څوك شبهه اوکړی چه مونږ له هم داسے حیلے جائز دی نوجواب اوشوپه دے لفظ سره چه لِيُوْسُفَ اولام دلته دپاره دَ تخصیص دے یعنی دا تدبیرخاص ووپه یوسف(علیه السلام) پورے په دے باندے قیاس کول دَ پاره دَ جواز دَ حیلومنع دے اوحیله سقاط مروجه دَ پاره خوهیڅ دلیل شرعی نیشته ﴿وَفَوْقَ كُلِّ ذِيْ عِلْمٍ عَلِيْمٌ﴾ که څوك شبهه اوکړی چه اللّٰه تعالیٰ هم علم والادے۔ نو ایا دَ هغه دپاسه هم علیم کیدے شی؟ نوجواب دا دے چه ذو علمٍ اللّٰه تعالیٰ ته شامل نه دے ځکه چه دَ علم حمل په اللّٰه تعالیٰ باندے په واسطه دَ ذو سره نقل شوے ثابت نه دے دا ایت دلیل دے چه په علم کښ ډیر تفاوت دے هیڅ عالم له دا جائز نه دی چه په خپل علم باندے فخر اولوئي اوکړی او اخری مرجع دَ علم اللّٰه تعالیٰ دے۔

[۷۷] هرکله چه په دوی باندے غلا ثابته شوه نو دوی خپل ځان دَ هغے نه بری کوؤ۔ نو وے وئیل چه دا بنیامین زمونږخپل وروړنهٔ دے۔ دَ دهٔ خپل وروربل وؤ۔ اوهغه هم غلا کړے وه نو دهٔ هم غلا اوکړه۔ یوسف(علیه السلام) په دے وخت کښ دوی ته جواب ورنکړواو ﴿اَنْتُمْ شَرٌّ مَّكَانًا﴾ ئے پټ اُوئیل او ﴿وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا تَصِفُوْنَ﴾ ئے بښکاره اُوئیل ﴿فَاَسَرَّهَا﴾ ضمیر راجع دے ما بعد (انتم شرّمکاناً) ته یا جواب دَ کلمے دَ هغوی دے یا راجع دے حجت ته۔

فائده: په نسبت دَ غلا کښ یوسف(علیه السلام) ته ، غوره قول دا دے چه دهٔ دَ خپل نیکه (دَ موردَپلار) نه په وړوکوالی کښ بت پټ کړے وواومات کړے ئے وو دَ پاره دَ دے چه هغه شرك پریږدی نو دوی بدنام

مَكَانَهٗ ۚ اِنَّا نَرٰىكَ مِنَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۷۸﴾ قَالَ مَعَاذَ اللّٰهِ اَنْ نَّاْخُذَ اِلَّا مَنْ وَّجَدْنَا مَتَاعَنَا عِنْدَهٗٓ ۙ
اِنَّآ اِذًا لَّظٰلِمُوْنَ ﴿۷۹﴾ فَلَمَّا اسْتَيْـَٔسُوْا مِنْهُ خَلَصُوْا نَجِيًّا ؕ قَالَ كَبِيْرُهُمْ اَلَمْ تَعْلَمُوْٓا اَنَّ اَبَاكُمْ
قَدْ اَخَذَ عَلَيْكُمْ مَّوْثِقًا مِّنَ اللّٰهِ وَمِنْ قَبْلُ مَا فَرَّطْتُّمْ فِيْ يُوْسُفَ ۚ فَلَنْ اَبْرَحَ الْاَرْضَ
حَتّٰى يَاْذَنَ لِيْٓ اَبِيْٓ اَوْ يَحْكُمَ اللّٰهُ لِيْ ۚ وَهُوَ خَيْرُ الْحٰكِمِيْنَ ﴿۸۰﴾ اِرْجِعُوْٓا اِلٰٓى اَبِيْكُمْ فَقُوْلُوْا يٰٓاَبَانَآ

دَ دهٔ په ځائے یقیناً مونږ تاوینو دَځائسته کار کوونکونه (۷۸) دهٔ اُوئیل پناهی غواړم په الله سره دَ دینه چه اونیسم سیوا دَهغه چانه چه موندلے مونږ سامان خپل دَهغه سره یقیناً (مونږ به دغه وخت) خامخا دَظالمانونه یو (۷۹) پس هرکله چه دوئ بنه ناامیده شو دَهغه نه جداشول جرګه کوونکی اُوئیل مشر دَ دوئ آیا تاسو خبرنه ئے چه ستاسو پلار اخستلے وو ستاسو نه لوظ پوخ په نوم دَالله تعالیٰ اوپخواهم تاسو قصور کړے دے په باره دَیوسف(علیه السلام) کښ پس چرے نه پریږدم دامللك ترهغے چه اجازت رااولیږی ماته پلار یا فیصله اوکړی الله تعالیٰ ماله اوهغه ډیر بنه فیصله کوونکے دے (۸۰) واپس لاړشئ پلار خپل ته پس اُوائے اے زمونږ پلاره

کړو په غلا سره۔

[۷۸] چونکه دوی دَ پلارسره وعده کړے وه چه بنیامین به واپس راولودَ دے وجے نه ئے عزیز مصر (یوسف علیه السلام) ته درخواست پیش کړو چه په هغے کښ درے خبرے وے۔ اول عذر پیش کول چه پلار دَ دهٔ بودا دے۔ دویم بدل پیش کول چه زمونږ نه یوتن دَ دهٔ په ځائے واخله۔ دریم تعریف کول دَ عزیز مصر(یوسف علیه السلام) چه ستا صفات دَ محسنینو دی اومخکښ دِ هم زمونږ سره احسان کړے دے۔

[۷۹] دا دلیل دے په دے خبره چه دَ مجرم په ځائے غیرمجرم نیول دَ شرکار دے چه دَ هغے نه پناهی غوښتل پکاردی اودارنګے دا ظلم هم دے او ﴿وَجَدْنَا﴾ لفظ ئے ځکه استعمال کړے دے چه تصریح دَ هغه په غلا اونکړے شی۔

[۸۰] دَ دے ایت نه نهم (۹) مقام دے تر ایت (۸۷) پورے په دے مقام کښ ذکرشویده مشوره دَ دوی په کورنئے کښ، اوپاتے کیدل دَ مشر ورورد دوی نه په مصرکښ اولیږل دَ نورو ورونړوپلارته دَ پاره دَ تفصیل دَ حال اوزیاتیدل غم دَ پلاراویادول یوسف علیه السلام لره اومنع کول دَ دوی پلار لره دَ یادولودَ یوسف علیه السلام نه اوجواب دَ پلار دوی ته اوحکم کول دَ پلار دوی ته په دریم ځل دَ تلو مصرته دَ پاره دَ طعام او دپاره دَ طلب دَ یوسف علیه السلام اودَ ورور دَ هغه۔ په دے (۸۰) ایت کښ ذکرشوے دے عزم دَ مشر ورورد دوی نه په پاتے کیدلو باندے په مصرکښ او دَ هغے دوه اسباب دی۔ یولوظ کول دَ پلارسره بل دَ یوسف علیه السلام په باره کښ دَکوتاهئے کولو تدارُك کول ﴿مِنْهُ﴾ ضمیرراجع دے یوسف علیه السلام ته یا راجع دے ورور (بنیامین) ته ﴿نَجِيًّا﴾ مفرد دے په معنیٰ دَ مناجی په تقدیرد فوجا نجیاً (نوپه معنیٰ دَ جمع سره دے) یا مصدردے په معنیٰ دَ ذوی نجوٰی ﴿مَافَرَّطْتُّمْ﴾ ماموصوله دے یا مصدریه دے ﴿يَاْذَنَ لِيْ﴾ مراد دَاذن نه رابلل دی خپل وطن ته ﴿اَوْيَحْكُمَ اللّٰهُ لِيْ﴾ یعنی ورور به ماته واپس کړی یا په ماباندے مرګ راشی یا په ورور باندے مرګ راشی نومراد دَ حکم نه حکم تقدیری دے بعضو دَ دے نه حکم دَ قتال اخستلے دے لیکن هغه ضعیف قول دے۔

اِنَّ ابْنَكَ سَرَقَ ۚ وَمَا شَهِدْنَآ اِلَّا بِمَا عَلِمْنَا وَمَا كُنَّا لِلْغَيْبِ حٰفِظِيْنَ ﴿۸۱﴾ وَسْـَٔلِ الْقَرْيَةَ الَّتِيْ كُنَّا فِيْهَا وَالْعِيْرَ الَّتِيْٓ اَقْبَلْنَا فِيْهَا ۭ وَاِنَّا لَصٰدِقُوْنَ ﴿۸۲﴾ قَالَ بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ اَنْفُسُكُمْ اَمْرًا ۭ فَصَبْرٌ جَمِيْلٌ ۭ عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّاْتِيَنِيْ بِهِمْ جَمِيْعًا ۭ اِنَّهٗ هُوَ الْعَلِيْمُ الْحَكِيْمُ ﴿۸۳﴾ وَتَوَلّٰى عَنْهُمْ وَقَالَ يٰٓاَسَفٰى عَلٰي يُوْسُفَ وَابْيَضَّتْ عَيْنٰهُ مِنَ الْحُزْنِ فَهُوَ كَظِيْمٌ ﴿۸۴﴾ قَالُوْا تَاللّٰهِ تَفْتَؤُا تَذْكُرُ يُوْسُفَ

یقیناً ستا ځوی غلا کړے ده اومونږ ګواهی نه درکوو مګر په هغه څه چه مونږ پرے خبریو اونه یو مونږ دَغیبو خبر لرونکی(۸۱) اوتپوس اوکړه دَهغه کلی نه چه مونږ په هغے کښے وؤ او دَهغه قافلے نه چه مونږ په هغے کښ راغلی یو او یقیناً مونږ خامخا رشتیا وایو(۸۲) اُوے (پلار) بلکه خائسته کړے دے تاسوته نفسونوستاسو څه خبره پس صبر خائسته (بنه کار دے) اُمید دے چه اللّٰه تعالیٰ به راولی ماته دادّوی په یو ځائے یقیناً هغه په هرڅه پوهه او حکمتونو والا دے (۸۳) اومخ ئے واړؤو دَ هغوی نه او اووئیل ئے هائے افسوس دے په یوسف پسے اوسپینے شوے وے سترګے دَهغه دَغم دَوجے نه اودے دَ خفګان نه ډك وؤ (۸٤) دوئ اُوئیل قسم په اللّٰه تعالیٰ همیشه ته یادَوے یوسف(علیہ السلام)

[۸۱] ﴿اِنَّ ابْنَكَ سَرَقَ﴾ داپه اعتبار دَ ظاهراودَ غالب ګمان سره دے داهم حکم دے په اعتبارد علاماتوسره چه هغه دَ سامان دَ ورورنه صواع راویستل وؤ﴿وَمَا كُنَّا لِلْغَيْبِ حٰفِظِيْنَ﴾ مراد دَ غیب نه حقیقت حال دَ غلا کولو دے یا مراد دَ دے نه حال دَ ورورډے چه دے به غلا کوې اوبیابه راګیرېږی په مرئي والی کښ۔او په دے آیت کښ اشاره ده چه ظنِّ غالب ته هم شرع کښ علم وئیلے کیږی۔ او دارنګ ګواهی کول په ظنِ غالب سره جائز دی۔

[۸۲] په دے آیت کښ دَ اثبات دَ صدق دَ پاره دوه قسمه شهادت پیش کوی۔ یودَ مصروالو نه تپوس کول اوبل دَ قافلے والونه ﴿اَلْقَرْيَةَ﴾ په دے کښ مضاف محذوف دے یعنی اهل القریة او مراد ترینه مصر دے۔

[۸۳] دلته هم یعقوب(علیہ السلام) قیاس اوکړو په اول ځل۔ لیکن دا قیاس دَواقعے سره موافق نه وو۔ او دا دلیل دے پدے باندے چه انبیاء علیهم السلام په غیب نه پوهیږی ﴿اَمْرًا﴾ مراد ترینه دَ بنیامین بوتلل اوپه تهمت دَ غلا کښ حصارول دی یا شهادت دَ غلا کولو په هغه باندے په خیال دَ نفسونو ستاسو کښ دے۔ حقیقت کښ هغه غلانه وه کړے ﴿عَسَى اللّٰهُ﴾ دا اُمید دَ یعقوب(علیہ السلام) دَ وجے دَ خوب دَ یوسف(علیہ السلام) نه وو دا خبره یقینی وه۔ لیکن کله دَ یقین نه تعبیر کیدے شی په لفظ دَ عَسَی سره۔

[۸٤] په دے آیت کښ اظهار دَ غم دَ یعقوب(علیہ السلام) دے په یوسف(علیہ السلام) باندے۔ اوحال دا دے چه دے وخت کښ غم دَ جدائے دَ بنیامین راغلے وو۔ نو وجه دَ دے داده چه په وړوکی غم سره عادتاً لوئے غم تازه کیږی او سپین والے دَ سترګو دَ وجے دَ ډیر والی دَ اوښکونه وو۔ دَ دے نه دا نه لازمیږی چه هغه ړوند شوے وؤ﴿يٰٓاَسَفٰى﴾ دا شکوه ده اللّٰه تعالیٰ ته مخلوق ته نه ده په قرینه دَ تَوَلّٰی عنهم اوپه قرینه دَ (۸٦) ایت اودا په معنیٰ دَ یا اللّٰه ارحم علی اسفی دے (یا اللّٰه رحم اوکړے په غم زما باندے)۔

فائده: ډیروالے دَ حُزن په انبیاء علیهم السلام او اوښکے توئیدل دَ سترګو نه ، جائز دی ۔ ځکه چه شرعًا منع نه دے او زمونږ نبی(ﷺ) هم په ابراهیم (بچی) پسے ژړلی وواودَ سترګونه ئے اوښکے بهیدلے وے

حَتّٰى تَكُوْنَ حَرَضًا اَوْ تَكُوْنَ مِنَ الْهٰلِكِيْنَ ﴿۸۵﴾ قَالَ اِنَّمَآ اَشْكُوْا بَثِّيْ وَحُزْنِيْٓ اِلَى اللّٰهِ وَاَعْلَمُ مِنَ اللّٰهِ
مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۸۶﴾ يٰبَنِيَّ اذْهَبُوْا فَتَحَسَّسُوْا مِنْ يُّوْسُفَ وَاَخِيْهِ وَلَا تَايْـَٔسُوْا مِنْ رَّوْحِ اللّٰهِ ؕ اِنَّهٗ لَا
يَايْـَٔسُ مِنْ رَّوْحِ اللّٰهِ اِلَّا الْقَوْمُ الْكٰفِرُوْنَ ﴿۸۷﴾ فَلَمَّا دَخَلُوْا عَلَيْهِ قَالُوْا يٰٓاَيُّهَا الْعَزِيْزُ مَسَّنَا وَاَهْلَنَا
الضُّرُّ وَجِئْنَا بِبِضَاعَةٍ مُّزْجٰىةٍ فَاَوْفِ لَنَا الْكَيْلَ وَتَصَدَّقْ عَلَيْنَا ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَجْزِي الْمُتَصَدِّقِيْنَ ﴿۸۸﴾

تردے چه ته شے رنځور یاته شے دَ مړونه (۸۵) اُوے پلار یقیناً ځه خوښکاره کوم خپل درد اوغم اللّٰه تعالیٰ ته اوپوهه یم دَ اللّٰه تعالیٰ دَطرف نه په هغه څه چه تاسو پرے نه پوهیګئ (۸۶) اے زما ځامنو لارشئ پس پیر تلاش اوکړئ دَ یوسف(علیه السلام) اودَ ورور دَهغه اومه ناامیده کیږئ دَ رحمت دَ اللّٰه تعالیٰ نه یقیناً نه نا اُمیده کیږی دَ رحمت دَ اللّٰه تعالیٰ مګر کافر قوم (۸۷) پس هرکله چه دوئ ورداخل شو هغه ته اُوئیل دوئ اے عزیزه رسیدلے ده مونږ ته اوکورنئ زمونږ ته سختی (لوږه) او راوړلے دے مونږه قیمت لږ پس پوره راکړه مونږ ته راشن اولحاظ اوکړه مونږ سره په نرخ کښ یقیناً اللّٰه تعالیٰ ښه بدله ورکوی لحاظ کوونکو لره (۸۸)

او ﴿كَظِيْمٌ﴾ دَ زړه غم ته اشاره ده منع په شرع کښ په غم کښ چغے اوساندے وهل دی اوحامے شلول دی اوناجائز کلمات وئیل دی او دا دَ مبتدعینو عادت دے۔

[۸۵] دا دَ ځامنو شفقت دے په پلار باندے چه دَ غم دَ وجے نه مریض نه شئ یا مړنه شی ۔ دا حسد نه دے دَ یوسف علیه السلام په ذکر باندے ځکه چه دوی توبه ویستلے وه ﴿تَفْتَؤُا﴾ کښ لا محذوف دے او په معنٰی دَ اثبات سره دے همیش والی ته وئیلے شی ﴿حَرَضًا﴾ هغه څوك چه دَ غم یا دَ مرض دَ وجے نه جسم ئے ویلی شی اومرګ ته نزدے شی۔

[۸۶] دا دلیل دے په دے خبره چه دَ غم شکایت کول اللّٰه تعالیٰ ته سنت دَ پیغمبرانو دے ﴿بَثِّيْ﴾ بث دپرغم ته وئیلے شی چه بے اختیاره خوراو مشهورشی اوپه دے کښ غم دَ یوسف علیه السلام ته اشاره ده او ﴿حُزْنِيْٓ﴾ کښ دَبنیامین جدائیے ته اشاره ده ﴿وَاَعْلَمُ مِنَ اللّٰهِ مَالَا تَعْلَمُوْنَ﴾ مراد دَ دے نه تعبیردَ خوب دَ یوسف علیه السلام دے چه دلیل دے په یوځائیے کیدلودَ هغوی دَپلار سره یا مراد دَ ﴿مَالَاتَعْلَمُوْنَ﴾ نه اجابت دَ دُعاء دَ عاجزئ کوونکی دے اللّٰه تعالیٰ ته۔

[۸۷] تَحَسُّسُ طلب دَ شی دے په حواسوسره اواکثرمستعملیږی په خیرکښ اوتجسُّسُ طلب دَ شی په پټه سره او اکثر مستعملیږی په شر کښ ۔ او دا آیت دلیل دے په دے خبره چه نا اُمیدی دَ رحمت دَ اللّٰه تعالیٰ نه کفردے ځکه چه ناامیدی کوونکے دَ رحمت دَ اللّٰه تعالیٰ نه منکروی (دَ قدرت دَهغه نه) اوانکارکول دَ قدرت دَ اللّٰه تعالیٰ نه کفر دے اونورتحقیق دَ دے آیت په سورۃ حجر (۵۶) کښ راتلونکے دے۔

[۸۸] دَ دے ځائے نه لسم مقام دے تر آیت ۹۳ پورے په دے مقام کښ ذکر کیږی راتلل دَ ورونړو دَ یوسف علیه السلام مصر ته په دریم ځل ۔ او تصدیق طلب کول دَ عزیز مصر (یوسف علیه السلام) نه اوپیژندګلو دَ هغوی دَ یوسف علیه السلام سره اوبیا اقرارد دوی په فضیلت دَ یوسف علیه السلام اوپه جرم خپل اوپه معافئے کولودَ هغه دوی ته اوبیا قمیص لیږل پلارته دَ پاره دَ تسلئے۔ پدے (۸۸) آیت کښ دلیل دے په دے خبره چه شکوه مخلوق ته جائزده په وخت دَسخت ضرورت کښ لیکن صبرکول بهتردی ﴿مُزْجَاةٍ﴾ دفع کړے شوی ته وئیلے شی

قَالَ هَلْ عَلِمْتُمْ مَّا فَعَلْتُمْ بِيُوْسُفَ وَاَخِيْهِ اِذْ اَنْتُمْ جٰهِلُوْنَ ﴿۸۹﴾ قَالُوْٓا ءَاِنَّكَ لَاَنْتَ يُوْسُفُ ؕ قَالَ اَنَا يُوْسُفُ وَهٰذَآ اَخِيْ ۫ قَدْ مَنَّ اللّٰهُ عَلَيْنَا ؕ اِنَّهٗ مَنْ يَّتَّقِ وَيَصْبِرْ فَاِنَّ اللّٰهَ لَا يُضِيْعُ اَجْرَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۹۰﴾ قَالُوْا تَاللّٰهِ لَقَدْ اٰثَرَكَ اللّٰهُ عَلَيْنَا وَاِنْ كُنَّا لَخٰطِـِٕيْنَ ﴿۹۱﴾ قَالَ لَا تَثْرِيْبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ ؕ

هغه اُوئیل آیا تاسوته یاد دی هغه چه تاسو کړے وو دَیوسف(علیه السلام) سره او دَ ورور دَهغه سره کوم وخت چه تاسو ناپوهه وئ (۸۹) دوئ اُوئیل آیاته یوسف ئے هغه اُوئیل څه یوسف یم او دا مې ورور دے یقیناً احسان کړیدے اللّٰه تعالیٰ په مونږ باندے یقیناً چاچه تقویٰ اوکړه او صبر ئے اوکړو نو یقیناً اللّٰه تعالیٰ نه بربادوی بدله دَ دغه ځائسته عمل کؤونکو (۹۰) دوی اُوئیل قسم دے په اللّٰه تعالیٰ یقیناً غوره کړے ئے ته اللّٰه تعالیٰ په مونږ باندے او یقیناً مونږ خطاکاریو (۹۱) دهٗ اُوئیل هیڅ ملامتیا نیشته په تاسو باندے نن

مرادترینه لږدے چه په مقابله دَ بیعه کښ (چه ډیر قیمت والاوی) دفع کولے شی دا مراد نه دے چه کوټه دی ځکه چه کوټه قیمت په سودا اخستلوکښ نشی پیش کیدلے ﴿فَاَوْفِ﴾ مراد دا دے چه مخکښ تا مونږ له څومره غله راکړے ده هغه مقدار مونږله راکړه په لږو پیسو او دا تصدق دے چه مونږستانه غواړو۔او مراد دَ تصدق نه رعایت کول دی په قیمت کښ اوهرکله چه دوی دَ عزیزمصراعمال دَمؤمنانوپه شان اولیدل نودَ دے وجے نه ئے اوئیل اِنَّ اللّٰهَ يَجْزِي الْمُتَصَدِّقِيْنَ۔

فائده: طلب دَ تصدق دَ هغه چانه کیدے شی چه محتاج وی ثواب ته دَ دے وجے نه دُعا غوښتل دَ اللّٰه تعالیٰ نه مکروه دی په دے الفاظو سره چه اَللّٰهُمَّ تَصَدَّقْ عَلَيَّ دا دَ حسن اومجاهدنه روایت دے۔ ابن کثیر اوابن جریر ذکرکړے دے اګر چه په دے باندے اعتراض دے چه په حدیث کښ وارد دی صدقة تصدق اللّٰه بها علیکم۔

[۸۹] ﴿هَلْ عَلِمْتُمْ﴾ تپوس کول مراد نه دی بلکه مقصد عظمت اوتقبیح دَ دغه عمل ده چه دوی دَ یوسف اوورورسره کړے وؤپدے ایت کښ تعارف دَ یوسف علیه السلام دَ رونړو سره اونسبت دَ جهل دے هغوی ته په سبب دَحسد اوظلم کولو دَ دوی دَیوسف علیه السلام اودَ ورور دَ هغه سره۔ اودا دلیل دے په دے خبره چه رونړه دَ یوسف علیه السلام پیغمبران نه وؤ ځکه نبی دَ نبوت نه مخکښ هم دَ جهل نه معصوم وی۔

[۹۰] په دے آیت کښ اشاره ده دے خبرے ته چه تقویٰ او صبر سبب دَ نجات او دَ رفع دَ درجاتو دے او دا دواړه اسباب دَ احسان دی ﴿ءَاِنَّكَ لَاَنْتَ يُوْسُفُ﴾ سوال: استفهام کښ خوتاکید اویقین نه جمع کیږی دلته همزه استفهامی اوانَّ اولام دَپاره دَ تاکید دی؟ جواب دا جمع کیدل دَ دوه حالتونودی یعنی اول کښ دوی په شك کښ وؤ نوزرئے یقین پیدا شو ﴿قَدْ مَنَّ اللّٰهُ عَلَيْنَا﴾ مراد دَ دے نه توفیق دَ صبر دے په مصیبتونو کښ بیا جمع کول دَ دواړو رونړو دی او دارنګ بچ ساتل دَ دے دواړودَ حسد دَ هغه کارونو نه چه نور رونړو ئے کول۔

[۹۱] اقرار دَ دوی په غوره والی دَ یوسف علیه السلام باندے دلیل دے دَعدم نبوّت دَ دوی ﴿وَاِنْ كُنَّا لَخٰطِـِٕيْنَ﴾ دا دلالت کوی پدے خبره چه دَ خطاء اطلاق کله کله په ګناه کبیره هم کیږی۔ اودَ دے اقرارپه ضِمن کښ لب دَ معافئے موجود دے اوخازن فرق ذکرکړے دے په مینځ دَخاطی اومخطی کښ چه اول په ګناه

يَغْفِرُ اللّٰهُ لَكُمْ ۫ وَهُوَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِيْنَ ﴿۹۲﴾ اِذْهَبُوْا بِقَمِيْصِيْ هٰذَا فَاَلْقُوْهُ عَلٰى وَجْهِ اَبِيْ يَاْتِ بَصِيْرًا ۚ
وَاْتُوْنِيْ بِاَهْلِكُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿۹۳﴾ ع وَلَمَّا فَصَلَتِ الْعِيْرُ قَالَ اَبُوْهُمْ اِنِّيْ لَاَجِدُ رِيْحَ يُوْسُفَ لَوْلَآ اَنْ
تُفَنِّدُوْنِ ﴿۹۴﴾ قَالُوْا تَاللّٰهِ اِنَّكَ لَفِيْ ضَلٰلِكَ الْقَدِيْمِ ﴿۹۵﴾ فَلَمَّآ اَنْ جَآءَ الْبَشِيْرُ اَلْقٰىهُ عَلٰى وَجْهِهٖ فَارْتَدَّ
بَصِيْرًا ۚ قَالَ اَلَمْ اَقُلْ لَّكُمْ ۚ اِنِّيْٓ اَعْلَمُ مِنَ اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۹۶﴾ قَالُوْا يٰٓاَبَانَا اسْتَغْفِرْ لَنَا ذُنُوْبَنَآ اِنَّا

ع ۱۲ ۱۰ ۱۰ ۱۰

كُنَّا خٰطِـِٕيْنَ ﴿۹۷﴾ قَالَ سَوْفَ اَسْتَغْفِرُ لَكُمْ رَبِّيْ ؕ اِنَّهٗ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ﴿۹۸﴾ فَلَمَّا دَخَلُوْا عَلٰى يُوْسُفَ
اٰوٰۤى اِلَيْهِ اَبَوَيْهِ وَقَالَ ادْخُلُوْا مِصْرَ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ اٰمِنِيْنَ ﴿۹۹﴾ وَرَفَعَ اَبَوَيْهِ عَلَى الْعَرْشِ وَخَرُّوْا
لَهٗ سُجَّدًا ۚ وَقَالَ يٰۤاَبَتِ هٰذَا تَاْوِيْلُ رُءْيَايَ مِنْ قَبْلُ ۫ قَدْ جَعَلَهَا رَبِّيْ حَقًّا ؕ وَقَدْ اَحْسَنَ بِيْۤ اِذْ
اَخْرَجَنِيْ مِنَ السِّجْنِ وَجَآءَ بِكُمْ مِّنَ الْبَدْوِ مِنْۢ بَعْدِ اَنْ نَّزَغَ الشَّيْطٰنُ بَيْنِيْ وَبَيْنَ اِخْوَتِيْ ؕ اِنَّ
رَبِّيْ لَطِيْفٌ لِّمَا يَشَآءُ ؕ اِنَّهٗ هُوَ الْعَلِيْمُ الْحَكِيْمُ ﴿۱۰۰﴾ رَبِّ قَدْ اٰتَيْتَنِيْ مِنَ الْمُلْكِ وَعَلَّمْتَنِيْ مِنْ

خطاکار وو(۹۷) اُوے هغه زردے بخنه به اوغواړم تاسولره دَرب خپل نه یقیناً هغه بخنه کوونکے رحم کوونکے دے (۹۸) پس هرکله چه دوئ داخل شو یوسف(علیه السلام) ته نوجدائے کړل دَخان سره مور اوپلار خپل او اُوئیل ئے ورننوځئ مصرته انشاء اللّٰه په امن سره به یئ (۹۹) اوپورته ئے کړو مور اوپلار په تخت باندے اوټیټ شول ټول هغه ته او اُوئیل هغه اے پلاره داتعبیر دَ خوب زمادے پخوادَ دے نه یقیناً اوکړځوو (خوب زما) زما رب رښتیا او یقیناً احسان ئے کړیدے زما سره کله چه ځه ئے راویستلے یم دَجیل نه اوتاسوئے راوستلے دَبانډونه روستو دَ دے نه چه فساد اچولے وو شیطان په مینځ زما او دَ وروڼړو زما کښ یقیناً رب زما مزیدار تدبیر جوړوی دَهغه کار چه اوغواړی یقیناً هغه په هرڅه پوهه اوحکمتونو والا دے (۱۰۰) اے ربه تاراکړے ده ماته بعض بادشاهی اوخودلے تاماته دَ

[۹۷] په دے ایت کښ دلیل دے چه وسیله نیول په دُعا دَ ژوندی حاضر سره جائزه ده۔

[۹۸] غوره قول په دے کښ دا دے اودَ امام شعبی نه نقل دے چه یعقوب علیه السلام دُعا دَ دے دَپاره وروستو کړه چه دَ یوسف علیه السلام نه پکښ مشوره واخلی ځکه چه دوی په هغه باندے ظلم کړے وؤ نودَ هغه خوښه ده چه معافی کوی اوکه نه کوی ځکه چه یعقوب علیه السلام دَ هغه (یوسف علیه السلام) دَ معافئ کولونه خبرنه وو۔

[۹۹] دَ دے ایت نه دولسم مقام دے تر آیت(۱۰۱) پورے پدے مقام کښ ذکرکیږی ملاقات دَ یعقوب علیه السلام اودَ ټول اهل دَ یوسف علیه السلام سره۔ اوذکرکیږی بشارت ورکول دوی ټولوته په امن سره ۔ او صدق دَ خوب په سجده کولو دَ دوی یوسف علیه السلام ته۔ بیا اختتام دَ دے واقعے په دُعا دَ یوسف علیه السلام سره۔ پدے (۹۹) ایت کښ دَ اَبَوَيْهِ نه مراد دَ دهٔ موراوپلاردی اوهیڅ صحیح دلیل نیشته په هغه قول دَ بعض مفسرینوکښ چه موردَ دهٔ وفات شوے وه اودائیے خاله وه۔ هرکله چه یعقوب علیه السلام سرهٔ دَ اهل وعیال نه مصرته را روان شونویوسف علیه السلام دَ هغوی دَ استقبال دَ پاره دَ مصردَ ابادئ نه باهرلاړواوهلته ئے دَ هغوی دَ ارام دَ پاره یومجلس جوړکړو۔ هرکله چه را او رسیدل نو موراوپلارئیے دَ ځان سره په خاص مجلس کښ کینول او پس دَ دے نه ئیے هغوی ته اُوئیل چه ﴿اُدْخُلُوْا مِصْرَ﴾ او ﴿اِنْ شَآءَ اللّٰهُ﴾ متعلق دے دَ لفظ اٰمِنِيْنَ سره یا دا چه لفظ دَ دخلوا نه مراد دخول دَ مصر دے او ﴿اُدْخُلُوْا﴾ په معنیٰ دَ اُسکُنُوا دے۔

[۱۰۰] دَ عرش نه مراد تخت دَ بادشاه دے چه هغه یوسف علیه السلام ته ورکړے وو ﴿وَخَرُّوْا لَهٗ سُجَّدًا﴾ په دے کښ غوره قول دا دے چه دا سجده دَ پاره دَ سلام وه او په طریقه دَ سر ښکته کولو او لاس جوړئ کولوسره۔ اودا په مخکنواُمتونوکښ په طریقه دَ اکرام په وخت دَ اکرام کښ جائزوه۔ اوزمونږپه امت

تَاْوِيْلِ الْاَحَادِيْثِ ۚ فَاطِرَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۫ اَنْتَ وَلِيّٖ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ۚ تَوَفَّنِيْ مُسْلِمًا
وَّاَلْحِقْنِيْ بِالصّٰلِحِيْنَ ﴿۱۰۱﴾ ذٰلِكَ مِنْ اَنْۢبَآءِ الْغَيْبِ نُوْحِيْهِ اِلَيْكَ ۚ وَمَا كُنْتَ لَدَيْهِمْ اِذْ اَجْمَعُوْٓا اَمْرَهُمْ
وَهُمْ يَمْكُرُوْنَ ﴿۱۰۲﴾ وَمَآ اَكْثَرُ النَّاسِ وَلَوْ حَرَصْتَ بِمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۰۳﴾ وَمَا تَسْـَٔلُهُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ ۭ اِنْ

حقیقت دَ خبرونه اے پیدا کونکیه دَآسمانونو او دَزمکے ته کارساز زما ئے په دُنیا اوپه آخرت کښ واخلے مالره دَاسلام په حالت کښے اویوځائے کړے ما(پس دَمرګ نه) دَنیکانو سره(۱۰۱) داچه ذکرشو بعضے دَخبرونو دَغیب نه دی وحی کؤو مونږ تاته اونه وے ته دَ دوئ سره (حاضر) کله چه هغوی پخه وو تدبیر خپل او دوئ مکرونه کول (۱۰۲) اونه دی زیات خلق اګرچه ته حرص کوے ایمان راوړونکی (۱۰۳) اونه غواړے ته دَ دوئ نه په دے باندے څه عوض نه دے

کښ منسوخ شویده لکه ابن کثیر قرطبی اوخازن لیکلی دی په دلیل دَ حدیث صحیح سره چه نقل دے دَ انسﷺ نه چه مونږ رسول اللّٰهﷺ نه تپوس اوکړو چه ایا مونږه په وخت دَ ملاقات کښ یوبل ته سرښکته کولے شونورسول اللّٰه ﷺ اُوفرمائیل (لا) داحدیث په مشکوٰة المصابیح کښ په صفحه (۲۸۳) باندے موجود دے او ﴿خَرُّوْا﴾ په دے ایت کښ په معنیٰ دَ صَارُوْا دے معنیٰ دا ده چه شول دوی هغه ته سرښکته کوونکی۔ دویم قول دا دے چه سجده ئے اللّٰه تعالیٰ ته اوکړله دَ وجے دَ یوسفﷺ نه اودا سجده دَ شکر ده نو یوسفﷺ په منزله دَ قبلے شو۔ او سجده کول دَ موراوپلارهم په امردَ اللّٰه تعالیٰ سره وؤنواعتراض نیشته۔ بیا یوسفﷺ دَ تکبراودَ تهمت دَ دفع کولودَ پاره اوفرمائیل ﴿هٰذَا تَاْوِيْلُ رُءْيَايَ﴾ اوتفصیل ئے اوکړودَ احساناتودَ اللّٰه تعالیٰ دپاره دَ اظهار دَعجز خپل ﴿لَطِيْفٌ﴾ دوه معنے لری یوه دا چه احسان کوونکے دے دَ بندګانو سره په داسے طریقه چه بنده دَ هغے ګمان هم نه کوی اودویمه معنیٰ دا چه عالِم دے په باریکوځیزونوباندے۔ اویوسفﷺ په دے احساناتوکښ دَکوهی نه دَ راوتلوذکرنه دے کړے دَ پاره دَ دے چه ورونړه دَ هغه شرمنده نه شی روستو دَ معافئے کولونه۔

[۱۰۱] په اختتام دَ واقعه کښ ذکردَ دُعا اشاره ده چه یوسفﷺ سرهٔ دَ بادشاهئے نه هم اللّٰه تعالیٰ ته عاجزی کوؤنکے محتاج وؤنودَ اللّٰه تعالیٰ سره شریك نشی جوړیدلے۔ په دے دُعا کښ توسُّل دے په انعام ظاهری دَ اللّٰه تعالیٰ سره چه بادشاهی ده ۔ او په انعام باطنی چه علم دے اوبیا توسُّل دے په اسماؤ دَ اللّٰه تعالیٰ چه فاطِر او وَلی دے ﴿تَوَفَّنِيْ مُسْلِمًا﴾ مقصود په دے کښ دُعا دَ مرګ نه ده ځکه چه حدیث صحیح کښ دَ هغے نه منع راغلے ده ۔ بلکه مقصود طلب دَ بقاء ده په اسلام باندے ترمرګه پورے ﴿وَاَلْحِقْنِيْ بِالصّٰلِحِيْنَ﴾ مقصد په دے کښ یوځائے کول دَ روح دَ دهٔ دی پس دَ مرګ نه دَصالحینوسره په رفیق اعلیٰ کښ لکه څه رنګ چه رسول اللّٰهﷺ په وخت دَ ځنکدن کښ دا دُعاء غوښتلے وه چه (اللّٰهم الرفيق الأعلى)۔

[۱۰۲] دَ دے ځائے نه تر اخردَ سورة پورے تتمه ده چه مشتمله ده په شپږو امورو باندے۔ اول صدق دَ رسول اللّٰهﷺ او تسلی ده هغه ته۔ دویم زجر ورکول مشرکانوته په اعراض کولودَ دلیلونودَ توحید نه اوپه ګډولودَ شرك دَ ایمان سره اودریم تیزی ورکول په دعوت باندے دَ پاره دَ دفع دَعذاب۔ اوځلورم جواب دَ سوال دَ منکرینودے۔ اوپنځم تسلی ورکول پیغمبرته په نصرت دَ اللّٰه تعالیٰ باندے۔ اوشپږم بیان دَ صدق دَ

هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۰۴﴾ وَكَاَيِّنْ مِّنْ اٰيَةٍ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ يَمُرُّوْنَ عَلَيْهَا وَهُمْ عَنْهَا
مُعْرِضُوْنَ ﴿۱۰۵﴾ وَمَا يُؤْمِنُ اَكْثَرُهُمْ بِاللّٰهِ اِلَّا وَهُمْ مُّشْرِكُوْنَ ﴿۱۰۶﴾ اَفَاَمِنُوْٓا اَنْ تَاْتِيَهُمْ غَاشِيَةٌ مِّنْ
عَذَابِ اللّٰهِ اَوْ تَاْتِيَهُمُ السَّاعَةُ بَغْتَةً وَّهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۱۰۷﴾ قُلْ هٰذِهٖ سَبِيْلِيْٓ اَدْعُوْٓا اِلَى اللّٰهِ ۣ

دا مگر نصیحت دے ټولو خلقو لره (۱۰٤) او ډیر دلیلونه دَ توحید دَ اللّٰه تعالیٰ دی په آسمانونو اوزمکه کښے چه دوئ پرے هروخت ورتیریږی او بیا هم دوئ دَهغے نه مخ ګرځوی (۱۰۵) او ایمان نه لری زیات خلق په اللّٰه تعالیٰ باندے مګر حال داچه شرك هم کوی (۱۰٦) آیاپه امن کیدیشی دوئ دَ دے نه چه راشی پدوی باندے یو راګیروونکے دَ عذاب دَ اللّٰه تعالیٰ نه یابه راشی دوئ ته قیامت ناګاهه او دوئ به نه پوهیږی (۱۰۷) ته اووایه داځما لار ده چه بلنه کؤم توحید دَ اللّٰه تعالیٰ ته

قران دے۔ په دے (۱۰۲) کښ اثبات دَ صدق دَ رسول اللّٰهﷺ دے په دلیل دَ عدم حضور دَ رسول اللّٰهﷺ دَ وروستو یوسف سره اوسره دَ دے نه چه خبر دَ هغوی ئے بیان کړے دے پوره پوره په ربنتیا سره اودارنګ په سورة العمران ایت (٤٤) کښ اوسورة قصص ایت (٤٤، ٤٥، ٤٦) کښ هم دی۔

[۱۰۳، ۱۰٤] په دے دوو ایتونوکښ تسلی ده رسول اللّٰهﷺ ته اومقصد دا دے چه سره دَ صداقت ستاچه ستادَ طرفنه حرص هم دے په هدایت دَ دے مشرکانواواُجرت نه اخستل دی اوپوره وعظ پیش کول دی بیا هم دَ دوی ایمان نه راوړل په وجه دَ عناد دَ دوی دی۔

[۱۰۵] په دے ایت کښ زجردے مشرکینوته په اعراض کولودَ دوی دَ دلیلونو دَ توحید نه لکه چه اعراض کوی دَ رسول دَ وحی نه ﴿يَمُرُّوْنَ﴾ مراد دَ دے نه تیرول دَ نظر دی په دغه څیزونو باندے۔

[۱۰٦] په دے ایت کښ زجردے په ګډولودَ شرك دَ ایمان سره اودا تفسیردَ اعراض دے۔ اومطلب دَ ایت دا دے چه ډیرخلق داسے شته دے چه اقرارکوی چه اللّٰه تعالیٰ خالق اومالك دے اوکله ترینه په مصیبتونوکښ مددهم غواړی او دُعاګانے غواړی اوکله نور عبادتونه هم کوی لیکن سرهٔ دَ هغے دَ شرك عقیده لری۔ اودَ شرك کارونه کوی یعنی دَ اللّٰه تعالیٰ نه سیوا نورهم کار ساز او مددګار ګڼړی او عالم الغیب ئے ګڼړی اودَ هغوی نه غائبانه مدد غواړی اودَ هغوی په نوم باندے نذرونه او منځتے کوی ۔ نو دا خلق یقیناً مشرکان دی ۔ او دغه ایمان دَ دوی په وجه دَ شرك دَ دوی برباد دے او دا ایت صریح دے چه هرکله دَ ایمان سره دَ شرك عقیده ګډه شی نوهغه ایمان برباد شی دَ دے وجے نه په دغه اقرارسره فقط دهٔ ته مؤمن نشی وئیلے کیدے بلکه مشرك به وی اوابن کثیر لیکلی دی چه په دے عمل کښ ریاء او خپلومټوته مزی ترڼ اوقسم په غیر اللّٰه باندے هم دا خل دی۔

[۱۰۷] هرکله چه مخکښ دوؤ آیتونوکښ اعراض اوشرك ذکرشونودا اسباب دَ عذاب دی۔اوپه دے آیت کښ تخویف په عذاب سره ذکرکوی نوداسے شوه چه مخکښے آیتونوکښ سبب ذکرشواوپه دے آیت کښ مسبب ذکرکوی۔

عَلٰى بَصِيْرَةٍ اَنَا وَمَنِ اتَّبَعَنِىْ ؕ وَسُبْحٰنَ اللّٰهِ وَمَآ اَنَا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿۱۰۸﴾ وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ اِلَّا
رِجَالًا نُّوْحِىْٓ اِلَيْهِمْ مِّنْ اَهْلِ الْقُرٰى ؕ اَفَلَمْ يَسِيْرُوْا فِى الْاَرْضِ فَيَنْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ
مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ وَلَدَارُ الْاٰخِرَةِ خَيْرٌ لِّلَّذِيْنَ اتَّقَوْا ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۱۰۹﴾ حَتّٰٓى اِذَا اسْتَيْـَٔسَ الرُّسُلُ وَظَنُّوْٓا
اَنَّهُمْ قَدْ كُذِبُوْا جَآءَهُمْ نَصْرُنَا ۙ فَنُجِّىَ مَنْ نَّشَآءُ ؕ وَلَا يُرَدُّ بَاْسُنَا عَنِ الْقَوْمِ الْمُجْرِمِيْنَ ﴿۱۱۰﴾

په دليل سره ځه او ځوك چه ځما تابعدار دى او پاكى ده الله تعالىٰ لره اوځه نه يم دَ مشركانو دَ ډلې نه اونه دى ليږلى مونږ ستانه مخكښې مګر نارينه چه وحى كوله مونږ هغوى ته دَلويو كلو والونه آياپس دوئ نه ګرځى په زمكه كښ پس چه اوګورى (دَعبرت په نظر) چه څرنګه وو آخرى انجام دَهغه خلقو چه دَ دوى نه مخكښې وو او خامخا كور روستنې غوره دے هغه چاړه چه تقوىٰ لرى آيا پس دَعقل نه كارنه اخلئ (۱۰۹) (پخوانو كافرانوله مهلت وركړے ؤو) تردے پورے چه نا اميده شو رسولان (دَ ايمان راوړلو دَقوم نه) اوګمان ئے اوكړو چه يقيناً دوئ نه غلطى شوے ده نورابه غے دوئ ته مدد زمونږ پس بچ به كړے شو هغه څوك چه مونږ غوښتلو اونه شى واپس كيدے عذاب زمونږ دَ قوم مجرمانونه (۱۱۰)

[۱۰۸] په دے آيت كښ تيزى وركول دى په دعوت باندے او دا علاج دے دَ پاره دَ دفع كولو دَ عذاب چه ذكر شو په تير شوى آيت كښ ﴿اَدْعُوْٓا اِلَى اللّٰهِ﴾ تفسيردے دَ ﴿هٰذِهٖ سَبِيْلِىْٓ﴾ اوپه ﴿وَمَنِ اتَّبَعَنِىْ﴾ كښ اشاره ده چه تابعدار دَ نبى هغه څوك دى چه دعوت وركوى توحيد طرفته ﴿عَلٰى بَصِيْرَةٍ﴾ اشاره ده علم دَ دليلونو ته يعنى دعوت په علم سره ضرورى دے ﴿وَسُبْحَانَ اللّٰهِ﴾په دے كښ ذكر دَ عقيدے دَ دعوت كوؤنكى دے اوابن كثير وئيلى دى چه دَ سبحان الله معنىٰ دا ده چه شريك اونظيراوولداووالداوصاحب اووزيراومشير ئے نيشته ﴿وَمَآ اَنَا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ﴾ داكلمه دَبرائت ده دَ ټولومشركانونه۔

[۱۰۹] په دے آيت كښ جواب دَ شُبهے دَ مشركينو دے چه هغوى وئيل چه ته رجل ئے نورسول نه شے كيدے۔ حاصل دَ جواب دا دے چه مخكښ رسولان ټول نارينه وو۔ نه زنانه وے اونه پيريان ووا ونه ملائك وو۔ دا ايت دليل دے چه زنانه نبيّه نشى كيدلے او كومونصوصوكښ چه ذكردَمريم اواسيه اوساره راغلے دے چه هغوى سره ملائكوخبرے كړيدى نوهغه مستلزم نه دے نبوت لره بلكه كرامات دى اوابن كثير ذكركړيدى چه په نيزدَ اهل سنت والجماعت زنانه نبيه نشى كيدلے بلكه صديقه كيدلے شى۔اودارنګ په دے ايت كښ تسلى ده پيغمبر ﷺاوتابعداروَدهغه ته په صدق دَرسول اوپه هلاكولوَ منكرينوسره ﴿مِنْ اَهْلِ الْقُرٰى﴾مراد دَ دے نه لوئے ابادئ والادى ځكه چه په دوى كښ عقل اوحلم ډيروى په نسبت دَ باندنے والو ﴿وَلَدَارُ الْاٰخِرَةِ﴾ دا معطوف دے په پټ عبارت باندے يعنى وانجينا اهل الايمان فى الدنيا (بچ كړل مونږمؤمنانولره په دُنيا)۔

[۱۱۰] په دے ايت كښ تسلى ده رسولانوته په نصرت دَ الله تعالىٰ پس دَ ذكر كولو دَ دعوت دَ دوى اودَ صدق دَ دوى نه پدے ايت كښ ډير احتمالات دى ۔ احتمالات په حتّٰى كښ دا دى: چه حتّٰى متعلق دے په ما ارسلنا پورے ۔ دويم داچه متعلق دے په مقدر پورے يعنى راځىٰ نَصرُهُم حتّٰى ۔ دريم داچه حتىٰ ابتدائيه دے۔

احتمالات په استياس كښ دا دى: (۱) نا اميدئے ته نزدے شول (۲) نا اميده شول دَ ايمان راوړلوَ قوم نه۔

لَقَدْ كَانَ فِيْ قَصَصِهِمْ عِبْرَةٌ لِّاُولِي الْاَلْبَابِ ؕ مَا كَانَ حَدِيْثًا يُّفْتَرٰى وَلٰكِنْ تَصْدِيْقَ الَّذِيْ بَيْنَ يَدَيْهِ وَتَفْصِيْلَ كُلِّ شَيْءٍ وَّهُدًى وَّرَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۱۱۱﴾

یقیناً شته دَ دوئ په دے بیان حال کښے لوئے عبرت پوره عقل والو لره، نه دے دا قرآن خبره دَ ځان نه جوړه کړے شوے لیکن (نازل کړے شوے دے) دپاره دَ تصدیق دَ هغه کتابونو چه مخکښے دَ دے نه وؤ او دپاره دَ وضاحت دَ هرضروری خبرے او دپاره دَهدایت او دَ رحمت هغه قوم لره چه ایمان راوړی (۱۱۱)

(۳) اوالزام المخاطب بمالا یلتزم په طور دَ محبت سره ـ احتمالات په معنیٰ دَ ظنوا کښ دا دی (۱) په معنیٰ دَ یقین سره (۲) په معنیٰ دَ غالب ګمان سره (۳) په معنیٰ دَ خطرات قلبیه یعنی زړه کښ بے اختیاره تیریدل۔

احتمالات په ضمیر دَ ظنواکښ: (۱) مکذبینو ته راجع دے (۲) تابعداروته راجع دے (۳) دواړوته په یوځائے راجع دے (٤) رسولانوته راجع دے۔

او په نسبت دَ دے رسولانوته احتمالات: (۱) ظن بے اختیاره راتلل (۲) الزام المخاطب بمالا یلتزم په طریقه دَ محبت سره۔ (۳) نزدے شوچه ګمان ئے کړے وے۔

احتمالات په کذبواکښ: (۱) صیغه مجهول مجرد(۲) صیغه معلوم مجرد(۳) مجهول مزید مشدد (٤) معلوم مزید مشدد۔ زمونږ په قرائت کښ مجهول مخفف دے۔

احتمالات په ضمیرد کذبوا مخفف کښ: (۱) مکذبین (۲) تابعداران (۳) دواړه ډلے (٤) رسولان۔

احتمالات په نسبت دَ کذبوا مخفف کښ رسولانوته: (۱) په معنیٰ دَ غلطئے اوسهوه کیدل په طریقه تبلیغ کښ (۲) مخفف په معنیٰ دَ مشدد دے (۳) کذب دَ جانب دَ اللّٰه تعالیٰ نه په احتمالونوتیرشوؤسره نوداټول اویش(۲۷)احتمالات شول۔خازن وئیلی دی چه ظن په معنیٰ دَ اختیاری ګمان کولودے اونسبت انبیاؤعلیهم السلام ته او معنیٰ دَ کُذِبُوا چه دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه کذب وئیلے شویدے او خلاف دَ وعدے کړے شویدے دا غلطه توجیه ده داسے یوعام مسلمان شخص نه شی کولے نوشان دَ انبیاء علیهم السلام خو ډیر اوچت دے او دا توجیهات چه تیرشول اکثر دَ هغے نه خازن په خپل تفسیرکښ راجمع کړی دی۔

[۱۱۱] په دے آیت کښ اثبات دَ صدق دَ قرآن دے په پنځووجوهاتوسره۔ اوله وجه داده۔ چه دا ربنتینے واقعه دَ یوسفؑ او دَ ورونړو دَ هغه، دلیل دے په صدق دَ قرآن۔ اودویمه وجه دا ده چه دے تصدیق دے دَ کتابونومخکښنوځکه چه په هغے کښ هم دا قصه په دے طریقے سره ذکر ده ـ دریمه وجه دا ده چه په دے کښ بیان دَ ټولوضروری عقیدو اواحکامودے اوځلورمه دا چه په دے کښے هدایت دے یعنی بیان دے په دلیلونوسره۔ اوپنځمه دا چه رحمت دے مؤمنانولره یعنی په سبب دَ ایمان سره په دے کتاب رحمتونه دَ اللّٰه تعالیٰ نازلیږی یا مراد دَ رحمت تثبُّت اوکلکوالے دے۔ لکه دَ سورة العمران په ایت (۸) کښ چه ذکردے ﴿عِبْرَةٌ لِّاُولِي الْاَلْبَابِ﴾ بعضِ دَ عبرتونونه دا دی چه نتیجه دَصبرپه مصائیبوکښ سلامتیا اوکرامتونه دی او نتیجه دَ مکرونواوحسد پښیمانی رسوائي اوذلت دے۔ اودا رنګ هغه ذات چه قادر وؤپه راویستلودَ یوسف دَکوهی نه اوبیا دَ جیل نه اوبادشاهی ئے ورله ورکړه اورونړه اوپلارئے ورسره یوځائے کړه نوقادردے چه محمدﷺ له به هم کامیابی اونصرت ورکوی۔

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

سُوۡرَةُ الرَّعۡدِ (۱۳) مَدَنِيَّةٌ (۹۶) | اٰيَاتُهَا ۴۳ رُكُوۡعَاتُهَا ۶

الٓمّٓرٰ ۚ تِلۡكَ اٰيٰتُ الۡكِتٰبِ ؕ وَالَّذِىۡۤ اُنۡزِلَ اِلَيۡكَ مِنۡ رَّبِّكَ الۡحَـقُّ وَلٰـكِنَّ اَكۡثَرَ النَّاسِ لَا يُؤۡمِنُوۡنَ ①
اَللّٰهُ الَّذِىۡ رَفَعَ السَّمٰوٰتِ بِغَيۡرِ عَمَدٍ تَرَوۡنَهَا ثُمَّ اسۡتَوٰى عَلَى الۡعَرۡشِ وَسَخَّرَ الشَّمۡسَ وَالۡقَمَرَ ؕ كُلٌّ

الٓمّٓرٰ۔ دا آیاتونه دَلوئے کتاب دی ۔ اوهغه چه نازل کړے شویدے تاته ستا دَ رب دَ طرف نه حق دے لیکن زیات خلق ایمان نه لری (۱) اللّٰه تعالیٰ هغه ذات دے چه اوچت کړیدی آسمانونه بے دَ ستنونه تاسوئے وینئے بیا برابر شویدے دَعرش د پاسه اوتابع کړے دے دَحکم خپل نمر او سپوږمئ هریو

سورة الرعد

په دے کښ اختلاف دے چه دا سورة مکی دے یا مدنی دے غوره قول دا دے چه دا سورة مکی دے ۔

ربط: دَ دے سورة دَ سورة یوسف سره دا دے چه سورة یوسف کښ مسئله دَ توحیدپه دلیل نقلی سره ثابته کړے شوه ۔ نو پدے سورة کښ عقلی دلیلونه او مثالونه ذکر کوی ۔ دا رنګ په هغه سورة کښ اثبات دَ صدق رسول وؤ نو پدے سورة کښ دَ شبهاتو جوابونه ذکرکوی ۔

دعویٰ دَ سورة: دَ دے سورة دوه دعوے دی۔ اوله دعویٰ اثبات دَ توحید دے په پنځو طریقوسره۔ اوله طریقه رد دے په څلورواقسامودَ شرك باندے چه شرك په علم کښے دے اوپه تصرّف کښ دے۔ اوپه عبادت کښ دے۔ اوپه دُعا کښے دے اودا په دیارلس آیتونوکښ دے۔ دویمه طریقه دلیلونه عقلی تفصیلی دی او هغه هم دیارلس دی۔ او دریمه طریقه ذکر کول دَ اسمائے حسنیٰ دَ اللّٰه تعالیٰ دی هغه هم دیارلس دی په حذف دَ تکرارسره۔ اوخلورمه طریقه پنځه مثالونه دی۔ او پنځمه طریقه مقابله ده په مینځ دَ صفاتو دَ مؤحّد او دَ مشرك کښے ۔ چه لس صفات دَ مؤحّد او درے صفات دَ مشرك ئے ذکر کړی دی نو دا هم دیارلس دی ۔ او دویمه دعویٰ اثبات دَ رسالت دَ رسول اللّٰهﷺ دے په جواب کولو سره دَ شپږو شبهاتو په شهادت دَ اللّٰه تعالیٰ او دَ اهل کتابوسره۔

خلاصه دَ سورة: دا سورة تقسیم دے شپږوبابونوکښ۔اول باب ترأوم ایت پورے دے۔ په دے باب کښ ترغیب دے کتاب اللّٰه ته په ایت (۱) کښ۔ بیا درے عقلی دلیلونه دی په ایت (۲،۳،٤)کښ۔ بیا درے زجرونه دی۔اول زجرپه انکار دَ بعث سره دے په ایت (۵)کښ۔ اودویم زجرپه طلب کولودَ عذاب په تلوارے سره دے۔ اودریم زجرپه شبهه کولوسره په رسول ﷺ باندے په طلب کولو دَ معجزے سره دَ هغه نه۔

تفسیر

[۱] په ے آیت کښ ترغیب دے قرآن ته په درے طریقوسره اول اعجازدَ قرآن په ذکردَ مقطعاتوسره۔ دویم ﴿تِلۡكَ اٰيٰتُ الۡكِتٰبِ﴾ اوالکتاب نه مراد کامل او عظیم الشان کتاب دے ۔ او دریم حکم په حقانیت دَ دے۔

يُجَرِّي لِاَجَلٍ مُّسَمًّى ؕ يُدَبِّرُ الْاَمْرَ يُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ لَعَلَّكُمْ بِلِقَآءِ رَبِّكُمْ تُوْقِنُوْنَ ۞ وَهُوَ الَّذِيْ مَدَّ
الْاَرْضَ وَجَعَلَ فِيْهَا رَوَاسِيَ وَاَنْهٰرًا ؕ وَمِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ جَعَلَ فِيْهَا زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ يُغْشِي الَّيْلَ
النَّهَارَ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ۞ وَفِي الْاَرْضِ قِطَعٌ مُّتَجٰوِرٰتٌ وَّجَنّٰتٌ مِّنْ اَعْنَابٍ
وَّزَرْعٌ وَّنَخِيْلٌ صِنْوَانٌ وَّغَيْرُ صِنْوَانٍ يُّسْقٰى بِمَآءٍ وَّاحِدٍ ۫ وَنُفَضِّلُ بَعْضَهَا عَلٰى بَعْضٍ فِي الْاُكُلِ ؕ

چلیږی ترنیټې مقررے انتظام کوی دَ ټولو کارونو جدا جدا بیانوو مونږ دلیلونه دَ دے دپاره چه په ملاقات دَرب تاسو یقین اوکړئے (۲) او اللّٰه تعالیٰ هغه ذات دے چه راښکلے ده زمکه اوپیدا کړیدی په هغے کښے پاخه غرونه او سیندونه او دَ هرقسم میؤونه پیدا کړی دی په هغے کښے جوړے دوه اغوندوی شپه ورځ ته یقیناً په دے کښے ډیر دلیلونه دَ توحید دی هغه قوم لره چه فکر کوی (۳) اوپه زمکه ټکړے دی یوبل سره په ګاونډ کښ او باغونه دی دَ انګورونه او فصلونه کجورے ګورے اورنګئے رنګئے اوبه کیږی په یوقسم اوبو سره اوغورَوالے ورکړو بعضو لره په بعضو باندے په خوند کښے

[۲] هرکله چه ایمان نه راوړل په قرآن باندے په سبب دَ شرك سره دی نو دَ رد دَ شرك دپاره عقلی دلیلونه ذکر کوی ۔ په دے ایت کښ اول دلیل عقلی دے او دَ قدرت دَ اللّٰه تعالیٰ نه پنځه امور ذکر کړے شوی دی ۔ او دا ټول دَ نظام علوی سره تعلق لری ﴿بِغَيْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا﴾ دَ دے دوه معنے دی اوله معنیٰ دا ده چه اسمان ئے اوچت کړے دے بغیرَ ستنونه۔ وینئے تاسو دا اسمانونه چه ستنے ورته نیشته۔ اودویمه معنیٰ دا ده چه اوچت کړی ئے دی اسمانونه بغیرَ داسے ستنونه چه تاسوئے وینئے۔ یعنی ستنے شته خوتاسوئے نه وینئے لیکن اول قول صحیح دے ﴿ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ﴾ استویٰ اوعرش په معنیٰ حقیقی سره دی بغیرَ تشبیه اوتمثیل نه اوکیفیت ئے معلوم نه دے اوتاویل ئے حرام دے ﴿لِاَجَلٍ مُّسَمًّى﴾ مراد دَ دے نه فنا دَ دُنیاده۔ ﴿يُدَبِّرُ الْاَمْرَ﴾ یعنی روستودَ رفع اواستوی اوتسخیرنه تدبیرَ دے ئے بل چاته سپارلے نه دے ﴿يُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ﴾ هغه دلیلونه مراد دی چه دلالت کوی په توحید اوپوره قدرت دَ اللّٰه تعالیٰ باندے ﴿لَعَلَّكُمْ﴾ یعنی سرهٔ دَ توحیدنه دا دلیلونه دَ بعث بعد الموت هم دی۔

[۳] دا ایت دویم دلیل عقلی سفلی دے۔ اودَ قدرت دَ اللّٰه تعالیٰ نه ئے پنځه امورذکرکړی دی۔ ﴿زَوْجَيْنِ﴾ مراد دا دے چه په ټولوبوټوکښ جوړئے یعنی (مذکراومؤنث) شته۔ اودویم قول دا دے چه مراد دَ زوجین نه دوه دوه قسمه دی۔ لکه خوږے اوتروے او وړے دانے اوغټے دانے اولوندے اواوچے اوتورے اوسپینے شنے اوسرے وغیره ﴿لِقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ﴾ په مخکښ ایت کښ صرف محسوسات ذکرکړی وو اوپه دے ایت کښ دَمحسوساتوسره معقولات هم ذکردی زوجیت دَ ثمراتو اوانقلابات دَ شپے اوورځے اودا خوفکرته محتاج دی نودَ دے ایت په اخرکښ یتفکرون ذکرکړوځکه چه فکروئیلے شی راویستل دَ معقولاتو دَ محسوساتونه۔

اِنَّ فِیۡ ذٰلِكَ لَاٰیٰتٍ لِّقَوۡمٍ یَّعۡقِلُوۡنَ ۞ وَاِنۡ تَعۡجَبۡ فَعَجَبٌ قَوۡلُهُمۡ ءَاِذَا كُنَّا تُرٰبًا ءَاِنَّا لَفِیۡ خَلۡقٍ
جَدِیۡدٍ ؕ اُولٰٓئِكَ الَّذِیۡنَ كَفَرُوۡا بِرَبِّهِمۡ ۚ وَاُولٰٓئِكَ الۡاَغۡلٰلُ فِیۡۤ اَعۡنَاقِهِمۡ ۚ وَاُولٰٓئِكَ اَصۡحٰبُ النَّارِ ۚ
هُمۡ فِیۡهَا خٰلِدُوۡنَ ۞ وَیَسۡتَعۡجِلُوۡنَكَ بِالسَّیِّئَةِ قَبۡلَ الۡحَسَنَةِ وَقَدۡ خَلَتۡ مِنۡ قَبۡلِهِمُ الۡمَثُلٰتُ ؕ
وَاِنَّ رَبَّكَ لَذُوۡ مَغۡفِرَةٍ لِّلنَّاسِ عَلٰی ظُلۡمِهِمۡ ۚ وَاِنَّ رَبَّكَ لَشَدِیۡدُ الۡعِقَابِ ۞ وَیَقُوۡلُ الَّذِیۡنَ

یقیناً په دے کښے دی دلیلونه هغه قوم لره چه عقل لری(٤)او که ته حیرانیږے (دَ دوی انکارته دَ توحید نه) پس دَ حیرانتیا خبره ده دا وینا دَ دوئ آیا کله چه مونږ خاورے شو آیا مونږ به شو په پیدائش نوی کښے داهغه خلق دی چه کفر ئے کړے دے په رب خپل باندے اودغه خلق طوقونه به واچولے شی دَ دوئ په ستونو کښ او دغه کسان اُور والادی دوئ په هغے کښ همیشه وی (٥) او په تادئ سره غواړی ستانه عذاب وړاندے دَ ایمان راوړلونه اوحال داچه تیر شوی دی دَ دوئ نه مخکښ عذابونه شرموونکی او یقیناً ستا رب بخنه کوونکے دے خلقوته سره دَظلم دَهغوئ نه او یقیناً ستارب خامخا سخت عذاب ورکوونکے دے (٦) او وائی هغه کسان

[٤] دا دریم دلیل عقلی دے اوپه دے کښ هم دَ قدرت دَ اللّٰه تعالیٰ نه پنځه امورذکردی ﴿مُتَجٰوِرٰتٌ﴾ یعنی مختلفے ټکړے دَ زمکے چه دَ یوبل سره نزدے دی ـ ابادے زمکے او خوره دارے زمکے اومختلف رنګونو والا ﴿صِنۡوَانٌ﴾ جمع ده، هغه کجوره چه دَیوویخ نه ئیے ډیرے ځانګے راوتلے وی اوغیرصنوان هغه دی چه دَ ویخ نه یوه تنه ے ځانګو وی ﴿وَنُفَضِّلُ بَعۡضَهَا عَلٰی بَعۡضٍ فِی الۡاُكُلِ﴾ یعنی زمکه یوه ده اواوبه هم یو قسم دی اوحال دا دے چه میوے مختلفے دی۔ اودا صریح رد دے په هغه خلقوچه طبیعت اوماده پرست دی چه که چرے پیداکیدل دَ اشیاؤپه طبیعت اوماده سره وے نونه به وؤاختلاف په میووکښ نومعلومه دَ دے نه داشوه چه پیداکوونکے اللّٰه تعالیٰ دے ﴿لِقَوۡمٍ یَّعۡقِلُوۡنَ﴾ هرکله چه مجاورت دَ ټکړودَ زمکے اواختلاف دَ باغونو او فصلونو او ځانګو او دَ خوندونو سرهٔ دَ یووالی دَ اوبو او زمکے نه صرف معقولی امور دی دَ دے وجے نه یعقلون ئیے ذکرکړو۔

[٥] په دے آیت کښ زجر دے منکرینو(دَ بعث بعد الموت) ته سرهٔ دَ تخویف اُخروی نه اومعنیٰ دَ آیت دا ده چه کهٔ تهٔ تعجب کوے په انکار دَ دوی دَ توحید نه نوپس تعجب اوکړه دَ بلے خبرے دَ دوی نه هم چه هغه انکار(دَ بعث بعد الموت) دے ﴿كَفَرُوۡا بِرَبِّهِمۡ﴾ دا دلیل دے چه انکار دَ بعث نه یقیناً کفر دے ﴿الۡاَغۡلٰلُ فِیۡۤ اَعۡنَاقِهِمۡ﴾ دا په دنیاکښ په طریقه دَ مثال سره ده یعنی دَ دوی غاړے ته پټئے دَ تقلید دَ ګمراهو پرتے دی دلیل ورسره نیشته دے یا په قیامت کښ داسے حالت کښ به وی ـ اغلٰل، جمع دَ غل ده پټئے دَ ځرمنے چه په هغے باندے ویخته وی اوپه هغے کښ سپکے شوے وی۔

[٦] په دیکښ زجردے په تلوار سره طلب کولودَعذاب لره مخکښ دَ ایمان راوړلونه لکه سورة انفال ایت (٣٢)کښ ﴿قَبۡلَ الۡحَسَنَةِ﴾ مراد دَ دے نه ایمان راوړل دی اوتوبه کول دی دَ شرك نه ﴿الۡمَثُلٰتُ﴾ جمع دَ (مثلة) ده هغه عذابونوته وائي چه شرمول کوی دَ دے وجے نه دَ مقتول نه غوږونه یا پوزه وغیره پریکولوته مثله وئیلے شی ﴿وَاِنَّ رَبَّكَ لَذُوۡ مَغۡفِرَةٍ لِّلنَّاسِ عَلٰی ظُلۡمِهِمۡ﴾ دَ ظلم نه مراد کفراوشرك دے او

ع ۱ كَفَرُوۡا لَوۡلَاۤ اُنۡزِلَ عَلَيۡهِ اٰيَةٌ مِّنۡ رَّبِّهٖ ؕ اِنَّمَاۤ اَنۡتَ مُنۡذِرٌ وَّلِكُلِّ قَوۡمٍ هَادٍ ۞ ۷ اَللّٰهُ يَعۡلَمُ مَا تَحۡمِلُ كُلُّ اُنۡثٰى وَمَا تَغِيۡضُ الۡاَرۡحَامُ وَمَا تَزۡدَادُ ؕ وَكُلُّ شَىۡءٍ عِنۡدَهٗ بِمِقۡدَارٍ ۞ ۸ عٰلِمُ الۡغَيۡبِ وَالشَّهَادَةِ الۡكَبِيۡرُ الۡمُتَعَالِ ۞ ۹ سَوَآءٌ مِّنۡكُمۡ مَّنۡ اَسَرَّ الۡقَوۡلَ وَمَنۡ جَهَرَ بِهٖ وَمَنۡ هُوَ مُسۡتَخۡفٍۢ بِالَّيۡلِ وَسَارِبٌۢ بِالنَّهَارِ ۞ ۱۰ لَهٗ مُعَقِّبٰتٌ مِّنۡۢ بَيۡنِ يَدَيۡهِ وَمِنۡ خَلۡفِهٖ يَحۡفَظُوۡنَهٗ مِنۡ اَمۡرِ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

چه کافران دی ولے نه شی نازلیدلے په دهٔ باندے معجزه دَرب دَطرف نه یقیناً ته ویره ورکوونکے ئے او دَهرقوم دپاره دعوت ورکوونکے ئے (۷) اللّٰه تعالیٰ علم لری دَهغه چه په گیډه پورته کوی هره زنانه اوهغه چه کمه وی بچه دانئے اوهغه چه زیاتوی اوهرڅه دَ اللّٰه تعالیٰ سره په خاص انداز سره دی (۸) عالم دے په پټ اوښکاره باندے ډیر لوئے دے او پورته دے (۹) برابر دی ستاسونه (په علم دَ اللّٰه تعالیٰ کښ) هغه ځوک چه پټه کوی وینا او هغه چه ښکاره وینا کوی اوهغه ځوک چه پټیدونکے وی دَشپے اوگرزی دَ ورځے (۱۰) دَ اللّٰه تعالیٰ په اختیار کښ دی وار په وار راتلونکی ملائك ورانده او روستو دَ انسان نه چه حفاظت کوی دَهغه پسبب دَحکم دَ اللّٰه تعالیٰ یقیناً اللّٰه تعالیٰ

مغفرت په معنیٰ دَ وروستو کولودَ عذاب دے یعنی اللّٰه تعالیٰ وروستو کوی عذاب لره دَ خلقونه سره دَ شرك دَ هغوی نه ـ یا مغفرت پخپله معنیٰ دے لیکن شرط دَ ایمان ورسره مراد دے ـ معنیٰ دا ده چه (اللّٰه بخی خلق وروستو دَ شرك کولونه خوپه دے شرط چه ایمان راوړی) یا دَ ظلم نه مراد سیوا دَکفراوشرك نه نور ګناهونه دی او دَ النّاس نه مراد مؤمنان دی معنیٰ داده چه(یقیناً اللّٰه تعالیٰ بخنه کوی مؤمنانوته سرهٔ دَ ګناهونودَ هغوی نه کله چه اوغواړی) اوکه اوغواړی نو عذاب به څه وخت پورے ورکوی۔

[۷] دا زجردے منکرینوته په طلب کولودَ دوی معجزات دَ نبی ﷺ نه اودلته مراد دَ ایت نه نااشنا عذابونه راویستل دی دَ اسمان یا دَ زمکے نه په قرینه دَیستعجلونك بالسیئة سره لکه چه په سورة بنی اسرائیل (۹۲) کښ ذکردی۔ اومطلب دا دے چه معجزات دوی دَ نبی ﷺ په اختیارکښ ګنړی نوځکه ئے دَ هغه نه طلب کوی لیکن دَ هغه کارخوصرف انذار دے ﴿وَلِكُلِّ قَوۡمٍ هَادٍ﴾ دامستقله جمله ده خبرمقدم اومبتدأ مؤخره ده۔ معنیٰ دا ده چه (دَ یوقوم دَپاره مستقل هدایت کوونکی وی) که نبی وی اوکه غیرنبی وی اویاداجمله عطف ده په مُنذِرٌ باندے نومعنیٰ دا شوه چه بے شکه ته ویرؤنکے اوهدایت کوونکے ئے ټولو قومونوته نو دلیل شو په عموم دَ بعثت دَ نبی ﷺ باندے یا مبتدأ محذوف ده یعنی واللّٰه لکل قومٍ هادٍ۔

[۸] دَ دے ایت نه دویم باب دے تر ایت (۱٤) پورے په دے باب کښ پنځه عقلی دلیلونه دی په رد دَ شرك فی العلم دَ ایت (۸) نه تر ایت (۱۲) پورے۔ بیا حال دَ ملائیکو ذکرکوی په طریقه دَ دلیل نقلی باندے سرهٔ دَ تخویف نه په ایت (۱۳) کښ بیا رد دے دَ شرك فی الدعاء په مثال سره په ایت (۱٤) کښ۔

[۸،۹،۱۰] په دے دریو ایتونوکښ اثبات دَ علم غیب دے اللّٰه تعالیٰ لره روستودَ ذکرکولودَ دلیلونودَ قدرت دَ اللّٰه تعالیٰ نه ﴿وَمَا تَغِيۡضُ الۡاَرۡحَامُ وَمَا تَزۡدَادُ﴾ مراد دَ دے نه دا دے چه کله ولد مخکښ دَ مودے نه پیداشی چه هغه نهه میاشتے دی عادتاً اوکله موده زیاته شی په رحِم کښ اوپه هغے کښ اختلاف دے دَ اهل علم۔ دَ امام ابوحنیفه په نیزدوه کلونه دی او دَامام شافعی په نیزځلوراودَ امام مالك په نیز پنځه کلونه

لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتّٰى يُغَيِّرُوْا مَا بِاَنْفُسِهِمْ ؕ وَاِذَآ اَرَادَ اللّٰهُ بِقَوْمٍ سُوْٓءًا فَلَا مَرَدَّ لَهٗ ۚ وَمَا لَهُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ مِنْ وَّالٍ ﴿۱۱﴾ هُوَ الَّذِيْ يُرِيْكُمُ الْبَرْقَ خَوْفًا وَّطَمَعًا وَّيُنْشِئُ السَّحَابَ الثِّقَالَ ﴿۱۲﴾ وَيُسَبِّحُ الرَّعْدُ بِحَمْدِهٖ وَالْمَلٰٓئِكَةُ مِنْ خِيْفَتِهٖ ۚ وَيُرْسِلُ الصَّوَاعِقَ فَيُصِيْبُ بِهَا مَنْ يَّشَآءُ وَهُمْ يُجَادِلُوْنَ فِى اللّٰهِ ۚ

نه بدلوی هغه حال چه په یو قوم باندے وی ترهغے پورے چه بدل کړی دوئ هغه عملونه چه دَ دوئ نفسونه پرے مشغول دی او کله چه اوغواړی اللّٰه په یوقوم باندے څه تکلیف پس نیشته واپس کوونکے دَهغے اونیشته دوئ لره سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه څوك ساتونکے(۱۱) اللّٰه تعالیٰ هغه ذات دے چه خائی تاسوته بریخنا دَ ویرے او دَطمعے دپاره او پیدا کوی وریځے درنے (۱۲) او تسبیح وائی رعد سره دَستائینے دَهغه نه او نور ملائك دَ وجے دَویرے دَ اللّٰه تعالیٰ نه او رالیږی تندرونه پس رسوی هغه چاته چه اُوغواړی او دوئ جګړه کوی په توحید دَ اللّٰه تعالیٰ کښے

اوکمه موده شپږ میاشتے ده۔ اودارنګ کله دَ ولد اندامونه ناقص وی اوکله زیات وی۔ دارنګ کله یوولد ناقص الخلقت وی۔ وَمَاتَزْدَادُ، یعنی دَیونه زیات اولاد ﴿وَسَارِبٌ بِالنَّهَارِ﴾ دَ دے یوه معنیٰ ده ګرځیدونکے اودویمه معنیٰ ئے ده ښکاره کیدونکے اودریمه معنیٰ ده پټیدونکے۔ لیکن دلته رومبئے دوه معنے غوره دی ﴿الْكَبِيْرُ﴾ لوئے دَ ذات اودَ صفاتودواړو ته شامل ده ﴿الْمُتَعَالِ﴾ دَ علونه ماخوذ دے یعنی پورته او اوچت دے ځکه چه دَ عرش دَپاسه دے دَ هغه نه بل ځیز پورته نیشته دے۔

[۱۱] دا هم دلیل عقلی دے په تصرف اوپه علم دَ اللّٰه تعالیٰ باندے ﴿مُعَقِّبٰتٌ﴾ مراد دَ دے نه هغه ملائیك دی چه دَ شپے او دَ ورځے نمبر په نمبر راځی دَ انسانانو دَ حفاظت دَ پاره او دا غیر دی دَ (کراماً کاتبین) نه او دَ لفظ دَ (لَهٗ) معنیٰ دا ده چه خاص دَ اللّٰه تعالیٰ په اختیارکښ دی ﴿يَحْفَظُوْنَهٗ﴾ دَ شردَ جناتواونورو حشراتونه حفاظت کوی او ﴿مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ﴾ متعلق دے په یحفظونه پورے یا متعلق دے په معقّبٰت پورے۔ ﴿مِنْ اَمْرِ اللّٰهِ﴾ مِن اجلیه دے یا په معنیٰ دَ با سره دے ﴿اِنَّ اللّٰهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتّٰى يُغَيِّرُوْا مَا بِاَنْفُسِهِمْ﴾ دارنګ سورة انفال ایت (۵۳) کښ هم تیرشوی دی۔ اودا جمله جواب دَ سوال دے چه هرکله ملائیك حفاظت کوی دَ انسان نوبیا په دهٔ باندے عذاب اومصیبت ولے نازلیږی؟ حاصل دَ جواب دا دے چه اللّٰه تعالیٰ دا حفاظت دَ انسان نه نه بدلوی تر هغے پورے چه دا انسان خپل حال بدل کړی یعنی ایمان اوتوحید اوسنّت پریږدی اوپه کفراو شرك اوبدعت کښ اخته شی نواللّٰه تعالیٰ ترے نه حفاظت لرے کړی يُغَيِّرُوْا مَا بِاَنْفُسِهِمْ، دا مراد نه دے چه انسان دَ اللّٰه تعالیٰ طرف نه احوال بدلولے شی بلکه دا نسبت سببی دے یعنی په سبب دَ ګناهونو سره دغه حالت دَ خیر بدل شی ﴿وَاِذَآ اَرَادَ اللّٰهُ بِقَوْمٍ سُوْٓءًا فَلَا مَرَدَّ لَهٗ﴾ داهم جواب دَسوال دے۔ سوال دا دے چه کله یوانسان بدنه وی کړی اوحال دا چه په هغه مصائب راځی نوملائیك څرنګ حفاظت کوی؟ حاصل دَ جواب دا دے چه هرمصیبت په اراده دَ اللّٰه تعالیٰ سره راځی نو اراده دَ اللّٰه تعالیٰ ملائیك نشی واپس کولے اونورمخلوق هم مدد نشی کولے۔

[۱۲] پدے ایت کښ هم دلیل عقلی دے په تصرفاتودَ اللّٰه تعالیٰ سره ﴿خَوْفًا وَّطَمَعًا﴾ یعنی دَ برق نه یره دَ تندر وی او طمع دَ باران هم ۔ دَ باران نه یره دَ بعضو خلقو چه چاته پکښ نقصان وی او دَ بعضو دَ پاره

وَهُوَ شَدِيدُ الْمِحَالِ ﴿١٣﴾ لَهُ دَعْوَةُ الْحَقِّ ۖ وَالَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِهِ لَا يَسْتَجِيبُونَ لَهُم بِشَيْءٍ
إِلَّا كَبَاسِطِ كَفَّيْهِ إِلَى الْمَاءِ لِيَبْلُغَ فَاهُ وَمَا هُوَ بِبَالِغِهِ ۚ وَمَا دُعَاءُ الْكَافِرِينَ إِلَّا فِي ضَلَالٍ ﴿١٤﴾ وَلِلَّهِ

اوهغه سخت نیوونکے دے(۱۳)خاص دَ اللّٰه تعالیٰ بلنه حق بلنه ده اوهغه کسان چه دوئ ترے نه مدد غواړی سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه نشی قبلولے دَ دوئ هیڅ حاجت نه دے دَ دوئ مثال مګر پشان دَ هغه چاچه اوکده کړی ورغوی اوبوته دَ دے دپاره چه اورسی دَ دهٔ خولے ته اونه دی هغه رسیدونکی دهٔ ته اونه ده دُعا دَ کافرانو مګر په ګمراهئ کښ ده (۱٤) اوخاص اللّٰه لره

طمع دَ فائِدو ﴿الثِّقَالَ﴾ هغه وریځے چه په باران سره درنے وی۔

[۱۳] پدے ایت کښ دلیل نقلی دے دَ ملائکو نه په توحید دَ اللّٰه تعالیٰ ځکه چه تسبیح او حمد کلمات دَ توحید دی او ورسره تخویف دُنیوی هم دے ﴿الرَّعْدُ﴾ دا ملك دے چه مقرردے په وریځو اوحمد لولی هر وخت کښ اوخاص په وخت دَ باران وریدلو کښ۔ اوبل قول دا دے چه رعد اواز دَوریځوته وائي (یعنی ګرځیدل) او نسبت دَ تسبیح هغے ته په طریقه دَ حال سره دے، نه چه په طریقه دَ قال سره ﴿وَهُمْ يُجَادِلُونَ فِي اللَّهِ﴾ یا واوحالیه دے یعنی صاعقه په دوی باندے راځی په وخت دَ جدال کولو کښ یا واو استینافیه دے دَپاره دَ زجرَ مشرکینو۔

[۱٤] دا ایت نتیجه ده دَ تیروشوودلیلونوپه دے قول سره چه له دعوة الحق۔ دَدے یومعنیٰ دا ده چه ﴿لَهُ﴾ خبرمقدم دے دَپاره دَ تخصیص اواضافت دَ دعوت اضافت دَ موصوف دے صفت ته یعنی حقه بلنه خاص اللّٰه تعالیٰ لره ده او دَغیر اللّٰه بلنه باطله ده۔ دویمه معنیٰ داده چه دعوة الحق دعوت دَ توحید دے معنیٰ دا ده چه دعوت دَ توحید خاص دَ اللّٰه تعالیٰ دعوت دے اودَ مشرکانودعوت باطل دے لیکن اوله توجیه دَ روستو جملے سره پوره مناسبه ده او په دے ایت کښ رد دَ شرك فی الدعاء دے په طریقه دَ مثال سره۔ حاصل دَ مثال دا دے چه یوکس وی اولاسونه ځے اوږده کړی وی اوبوته په دے مقصد چه هغه اوبه دَ دهٔ خُلے ته را اورسی او آوازکوی اوبوته لیکن هغه اوبه دهٔ ته نشی رسیدے نو دارنګے هغه مشرك چه را مددشه وائي هغه چاته چه دے ځے حاجت پوره کوونکے ګڼړی سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه اوهغه لرے وی دَ دهٔ نه اویا مړوی نو هغه آوازنه شی اوریدے اونه دَ دهٔ حاجت پوره کولے شی نو دَ معبودانو باطلو تشبیه ځے ورکړیده دَ اوبوسره چه نه وینی اونه اوری اونه چا ته پخپله رسیدلے شی۔ بله طریقه دَ دے تمثیل داده چه یوتږے سړے وی او سراب اُوینی او خیال اوکړی چه دا اوبه دی اولاس اوږدوی هغے ته چه هغه خولے ته را اُورسی دَ دهٔ اوحال دا دے چه هغه دهٔ ته نشی رارسیدے ځکه چه دَ دهٔ ګمان غلط دے ۔ نو دارنګے هغه مشرك دے چه په معبود باطل باندے عقیده لری چه دا (اِلٰه) دے او دے دَ هغه نه حاجتونه هم غواړی او هغه دَ دهٔ حاجت نه شی پوره کولے دَ دے وجے نه چه دَ دهٔ عقیده باطله ده ځکه چه غیراِلٰه بے اِلٰه ګڼرلے دے﴿وَمَا دُعَاءُ الْكَافِرِينَ إِلَّا فِي ضَلَالٍ﴾دَ دے معنیٰ دا ده کافران چه دَ اللّٰه تعالیٰ نه سیوا دَ بل چانه حاجتونه غواړی نودا دُعا نه ده مګرشرك او ګمراهی ده اوبله معنی دا ده چه کافران چه دَ اللّٰه تعالیٰ نه دُعاغواړی نوهغه بربادوی یعنی په هغے اجروَثواب نه حاصلیږی اګرچه دنیاکښ کله کله قبلیږی۔

يَسْجُدُ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ طَوْعًا وَّكَرْهًا وَّظِلٰلُهُمْ بِالْغُدُوِّ وَالْاٰصَالِ ﴿۱۵﴾ قُلْ مَنْ رَّبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ قُلِ اللّٰهُ ؕ قُلْ اَفَاتَّخَذْتُمْ مِّنْ دُوْنِهٖۤ اَوْلِيَآءَ لَا يَمْلِكُوْنَ لِاَنْفُسِهِمْ نَفْعًا وَّلَا ضَرًّا ؕ قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الْاَعْمٰى وَالْبَصِيْرُ ۙ اَمْ هَلْ تَسْتَوِي الظُّلُمٰتُ وَالنُّوْرُ ۚ اَمْ جَعَلُوْا لِلّٰهِ شُرَكَآءَ خَلَقُوْا كَخَلْقِهٖ فَتَشَابَهَ الْخَلْقُ عَلَيْهِمْ ؕ قُلِ اللّٰهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ وَّهُوَ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ ﴿۱۶﴾ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ

سجده کوی څوك چه دی په آسمانونو او زمکه کښ څوك په رضا اوڅوك په زوره او سوری دَ دوئ صبائی او بیګانی (۱۵) ته اُوایه څوك دے رب دَآسمانونو او دَزمکے اُوایه اللّٰه تعالیٰ دے اُوایه آیانیولے دی تاسو سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه مددګاران چه واك نه لری ځان دپاره دَهیڅ فائدے او نه دَهیڅ نقصان اُوایه آیابرابر دے ړوند اولیدونکے او آیابرابر دی تیارے او رنړا آیا مقرر کړی دی دوئ اللّٰه تعالیٰ لره برخے والا (په بندګئ کښ) پیدائش کړیدے هغوئ پشان دَپیدائش دَ اللّٰه تعالیٰ پس ګډوډ شوے دے پیدائش په دوئ باندے اُوایه ته اللّٰه تعالیٰ پیدا کوونکے دَهرڅه دے اوهغه یودے زور وردے (۱۶) راورولی دی دَبره طرف نه

[۱۵] دَ دے آیت نه دریم باب دے تر ایت (۲۵) پورے۔ په دے کښ دلیل عقلی نهم په آیت (۱۵) کښ دے بیا دلیل عقلی لسم په آیت (۱۶) کښ دے سرهٗ دَ زجرنه په شرك فی التصرف سره، اودوه مثالونه دی۔ او بیا دلیل عقلی یوولسم دے سره دَ دوه مثالونونه په(۱۷)کښ۔ بیا تقابل په مینځ دَ مؤحدینو او مشرکینو کښ دے په تخویف اوبشارت سرهٗ اوپه ذکر دَصفاتو دَ مؤحدینو لس سرهٗ دَ بشارت نه دَ ایت (۱۸) نه تر (۲۴) پورے او ذکر دَ دریو صفاتودَ مشرکینواوتخویف (۲۵)کښ، پدے آیت (۱۵)کښ دلیل عقلی دے نهم په ذکردَسجود دَتمام عالم سره۔ اومراد دَ سجود نه انقیاد دے امرتشریعی اوتکوینی ته نومؤمنان انقیادکوی دواړه قسمه طوعاً، اومشرکان انقیاد تکوینی کوی کرهاً، یا مراد دَ سجود نه سجده حقیقیه ده اومن فی السمٰوت ملائك دی اومراد دَ مَنْ فی الارض نه مؤمنان دی اوپه کرهاً سره مراد دے بعد دَ استدلال نه یعنی په دلیل سره مجبورشوی دی، نوسجده اللّٰه تعالیٰ لره خاص کوی۔ یامراد دَ طوعاً اوکرهاً نه حالت دَ خوشحالئے اوحالت د خفګان دے یعنی دوی په دواړه حالاتوکښ اللّٰه تعالیٰ ته سجده کوی ﴿بِالْغُدُوِّ وَالْاٰصَالِ﴾ په بعضو ملکونوکښ دَ زوال په وخت کښ سورے نه وی ځکه دَ هغے ذکراونه شو یا غدومخکښ دَ زوال نه او اصال روستودَ زوال نه وی۔

[۱۶] په دے کښ دلیل عقلی اعترافی لسم دے اوبیا زجردے مشرکینوته او رد دے په شرك فی التصرف باندے بیا دوه مثالونه دی اول مثال دَ مؤحد اودَمشرك دے په الاعمیٰ والبصیرسره اودویم مثال دَ شرك اودَ توحید دے په الظلمٰت والنورسره بیا زجر دے مشرکینوته چه خالق دَ هرڅیزیواللّٰه دے اوپه خلق کښ دَ هغه سره څوك شریك نیشته نوولے دَهغه سره په بندګئ کښے څوك شریك جوړوئ ﴿قُلِ اللّٰهُ﴾ هرکله چه مشرکان چپ شول ځکه چه هغوی دَ اللّٰه تعالیٰ نه سیوا بل رب نه ګڼلو۔ نونبی ﷺ ته امراوشو چه ته پخپله جواب ذکرکړه ﴿اَفَاتَّخَذْتُمْ﴾ دَ شرك دَ ربوبیت دَ تردیدنه روستورد دے په شرك فی التصرف باندے او داسے په سورة فرقان (۳)کښ دی ﴿اَمِ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖۤ اٰلِهَةً﴾ دا زجردے په شرك فی الالوهیت باندے په دلیل دَ نفی دَ خالقیت دَ غیراللّٰه سره اومدخول دَ ام خلقو دے اواستفهام انکاری دے۔

مَآءً فَسَالَتۡ اَوۡدِيَةٌۢ بِقَدَرِهَا فَاحۡتَمَلَ السَّيۡلُ زَبَدًا رَّابِيًا ؕ وَمِمَّا يُوۡقِدُوۡنَ عَلَيۡهِ فِى النَّارِ ابۡتِغَآءَ حِلۡيَةٍ اَوۡ مَتَاعٍ زَبَدٌ مِّثۡلُهٗ ؕ كَذٰلِكَ يَضۡرِبُ اللّٰهُ الۡحَقَّ وَالۡبَاطِلَ ؕ فَاَمَّا الزَّبَدُ فَيَذۡهَبُ جُفَآءً ۚ وَاَمَّا مَا يَنۡفَعُ النَّاسَ فَيَمۡكُثُ فِى الۡاَرۡضِ ؕ كَذٰلِكَ يَضۡرِبُ اللّٰهُ الۡاَمۡثَالَ ؕ ﴿۱۷﴾ لِلَّذِيۡنَ اسۡتَجَابُوۡا لِرَبِّهِمُ

اوبه پس اوبهیږی کنډے ډَحپل انداز برابر نوراواوخیژوی سیلاب زګونه اوچت اودَهغے نه چه ګرموی دوئ هغے لره په اُور کښ دپاره ډَطلب ډَکالو یا ډَسامان زګونه دی په شان ډَ دے دغسے بیانوی مثال اللّٰه تعالیٰ ډَ حق اودَ باطل پس هرچه زګ دے پس لاړشی بے کاره اوهرچه هغه شے دے چه نفع ورکوی خلقوته نو باقی پاتے شی په زمکه کښ د غه شان بیانوی اللّٰه تعالیٰ مثالونه (۱۷) هغه چاڼه چه خبره ئے اومنله ډَرب خپل

[۱۷] پدے ایت کښ یؤلسم دلیل عقلی دے اولاً۔ بیا ذکرډَ دوومثالونودے په باره ډَ مقابلے ډَ حق اودَ باطل کښ، تفصیل ډَ اول مثال دا دے چه باران اووریږی نوپه کندو کښ سیلابونه راشی په مقدارډَهرے یوے کندے اوورسره ډَ سیلاب ډَ پاسه اوچت زګونه وی بیاځهٗ موده روسته زګ اوچ شی اوصفا اوبهٗ ډَخلقو ډَ فائدے ډَ پاره پاتے شی نودارنګ بعض خلق علم ډَ توحید اودَ سنت حاصل کړی اوهریودَ خپل محنت مطابق عالم شی بیا دوی په شان ډَسیلاب ډَ دعوة ډَپاره مختلف اطرافوکښ خوارهٗ شی نودَ دوی په مقابله کښ باطل پرست خلق را اُوچت شی اوپه اول وخت کښ هغوی غالب وی بیاځهٗ وخت روسته دغه باطل پرست مغلوب اوے کاره شی اوحق دین په دُنیاکښ پاتے شی اوخلق ډَ هغے نه فائدے اخلی۔ اوتفصیل ډَ دویم مثال دا دے چه زرګران سرهٗ زراوسپین زرتانبه قلعی وغیره په اورسره ویلی کړی۔ نودَ بعضونه کالی جوړکړی ډَ صرف زینت ډَ پاره اودَ بعضونه نورسامان جوړکړی چه ډَ هغے نه ځهٗ فائده اخستے کیږی لیکن ډَ دغے اوبوویلی کړے شوډَپاسه هم زګ راشی بیا ځهٗ وخت پس دازګ بے کاره شی اوسوچه زرپاتے شی چه ډَ هغے نه کالی ډَ زینت ډَپاره اوسامان جوړوی لکه لوخی اوخلق ترینه فائدے اخلی نودارنګ هغه علماء دی چه ډَ قرآن اودَسنت علم ئے ډَ ډَحپل استعداد مطابق حاصل کړیدے اوبیا په نشرواشاعت ډَ دے علم کښ په درس وتدریس سره محنت کوی اوغلط مسائل ډَشرك اودَ بدعاتودَحق نه جداکوی اوپه دے ذریعه نوراهل علم پیداکوی چه هغه ډَکاراودَ فائدے خلق وی چه نوروته فائدے ورکړی یا داسے خلق وی چه پخپله ډَ علم نه ځان ډَ پاره فائده اخلی لیکن ډَدوی په مخالفت کښ باطل پرست مُلیان وی بیاځه وخت پس هغه باطل پرست کمزوری شی اوحق پرستونه خلقوته فائدے رسی۔

فائده: هرکله چه دعوت په دوه طریقوسره دے یودعوت په سفرکولوسره اوګرځیدلو سره اودویم په طریقه ډَ درس وتدریس سره نودَ دے وجے نه دوه مثالونه ئے ذکرکړیدی خودَ دواړومبداء ډَ قرآن وحدیث لوستل اوایزده کول دی ځکه چه بغیرډَ علم ډَ وحی نه دعوت نشی کیدلے۔

الۡحُسۡنٰى ؕ وَالَّذِيۡنَ لَمۡ يَسۡتَجِيۡبُوۡا لَهٗ لَوۡ اَنَّ لَهُمۡ مَّا فِى الۡاَرۡضِ جَمِيۡعًا وَّمِثۡلَهٗ مَعَهٗ لَافۡتَدَوۡا بِهٖ ؕ اُولٰٓئِكَ لَهُمۡ سُوۡٓءُ الۡحِسَابِ ۙ وَمَاۡوٰىهُمۡ جَهَنَّمُ ؕ وَبِئۡسَ الۡمِهَادُ ﴿۱۸﴾ اَفَمَنۡ يَّعۡلَمُ اَنَّمَاۤ اُنۡزِلَ اِلَيۡكَ مِنۡ رَّبِّكَ الۡحَقُّ كَمَنۡ هُوَ اَعۡمٰى ؕ اِنَّمَا يَتَذَكَّرُ اُولُوا الۡاَلۡبَابِ ﴿۱۹﴾ الَّذِيۡنَ يُوۡفُوۡنَ بِعَهۡدِ اللّٰهِ وَلَا يَنۡقُضُوۡنَ الۡمِيۡثَاقَ ﴿۲۰﴾ وَالَّذِيۡنَ يَصِلُوۡنَ مَاۤ اَمَرَ اللّٰهُ بِهٖۤ اَنۡ يُّوۡصَلَ وَيَخۡشَوۡنَ رَبَّهُمۡ وَيَخَافُوۡنَ سُوۡٓءَ الۡحِسَابِ ﴿۲۱﴾ وَالَّذِيۡنَ صَبَرُوا ابۡتِغَآءَ وَجۡهِ رَبِّهِمۡ وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاَنۡفَقُوۡا مِمَّا رَزَقۡنٰهُمۡ سِرًّا وَّعَلَانِيَةً وَّيَدۡرَءُوۡنَ

خائسته حال دے اوهغه څوك چه خبره نهٔ منی دَ رب خپل كه چرے دَ دوئ دپاره هغه څه چه په زمكه كښ د ی ټول او دومره قدر ورسره شی خامخا په جرمانه كښ به ورکوی هغے لره دغه كسان دوئ لره بدحساب دے اوځائے دَورتلو دَ دوئ جهنم دے اوناكاره ځائے دے تيار كړے شوے (۱۸) آيا پس څوك چه يقين لری چه هغه څه چه نازل كړے شويدے تاته دَ رب دَ طرف نه حق دے په شان دَهغه چادے چه روندوی (دَحق نه) يقيناً نصيحت قبلوی صفاعقل والا(۱۹) دا هغه كسان دی چه پوره كوی لوظ دَ اللّٰه تعالیٰ لره اونه ماتوی دوی پوخ لوظ(۲۰) او داهغه كسان دی چه پيوست لری هغه چه اللّٰه تعالیٰ حكم كړيدے دَهغے په پيوست ساتلو او ويره كوی دَرب خپل نه او يريږی دَ بد حساب نه (۲۱) اودا هغه كسان دی چه صبرئے كړے دے دپاره دَ طلب دَمخ دَرب خپل اوپابندی كړے ده په مونځونو باندے اوخرچ ئے كړے دے دَهغے نه چه ورکړی دی مونږ دوئ ته پټ اوښكاره او دفع كوی

[۱۸] په دے ايت كښ ذكرد فريقين دے چه پيداكيږی په دعوت سره چه اهل حق اواهل باطل دی په طريقه دَمقابلے سره اهل حق دپاره بشارت دے اودَ اهل باطل دَ پاره تخويف اُخروی دے ﴿سُوۡٓءُ الۡحِسَابِ﴾ دا دے چه مناقشه اوكړے شی اودَ هرے ذرے ذرے تپوس اوشی اوهيڅ جرم ورته نه معاف كوی۔

[۱۹] په دے ايت كښ هم مقابله دَ فريقينوذكرده يوفريق هغه دے چه دَ قرآن اودَ توحيد په حقانيت باندے علم اويقين لری او دوی استجابواكښ داخل دی اودويم فريق هغه دے چه دَ توحيد اودَ قرآن نه جاهل دی اوهغه ته ئيے اعميٰ وئيلی دی اوهغه لم يستجيبوا والادی اوپه دے ايت كښ دَ اهل حق دَ لسو صفاتونه اول صفت ذكر شوے دے چه هغه اولوا الالباب دے۔

[۲۰] په دے ايت كښ دَ اهلِ حق دوه صفات ذكرشوی دی اودَ عهد اللّٰه نه توحيد دَ اللّٰه اوټول اوامراونواهی مراد دی اودا عهدپه عقلی اونقلی دليلونوسره مضبوط كړے شوے دے نوځكه ورته ميثاق وائی نوعهد اوميثاق يوځيز دے نويوصفت ثبوتی دے اوبل صفت سلبی دی يا عهد اللّٰه نه مراد عهود الٰهيه دی اوالميثاق نه مراد عهود دَ بندګانودی۔

[۲۱] په دے كښ دَ اهل حق درے صفات ذكرشوی دی دَ دے اول صفت تشريح په تفسيرد سورة بقره كښ تيره شويده فرق دَ خشيت اودَ خوف دا دے چه خشيت مستعمليږی اكثرپه مقام دَ تعظيم كښ سرهٔ دَعلم نه په حال دَمخشی عنه اوخوف عام دے كه تعظيم ورسره وی اوكه نه دَ دے وجے نه كله خوف دَ اللّٰه نه وی اوايمان نه وی لكه خوف دَ ابليس په غزوه دَ بدر كښ اودارنګ خوف كله دَ غيراللّٰه نه هم وی

بِالۡحَسَنَةِ السَّيِّئَةَ اُولٰٓئِكَ لَهُمۡ عُقۡبَى الدَّارِ ﴿۲۲﴾ جَنّٰتُ عَدۡنٍ يَّدۡخُلُوۡنَهَا وَمَنۡ صَلَحَ مِنۡ اٰبَآئِهِمۡ
وَاَزۡوَاجِهِمۡ وَذُرِّيّٰتِهِمۡ وَالۡمَلٰٓئِكَةُ يَدۡخُلُوۡنَ عَلَيۡهِمۡ مِّنۡ كُلِّ بَابٍ ﴿۲۳﴾ سَلٰمٌ عَلَيۡكُمۡ بِمَا صَبَرۡتُمۡ فَنِعۡمَ
عُقۡبَى الدَّارِ ﴿۲۴﴾ وَالَّذِيۡنَ يَنۡقُضُوۡنَ عَهۡدَ اللّٰهِ مِنۡۢ بَعۡدِ مِيۡثَاقِهٖ وَيَقۡطَعُوۡنَ مَآ اَمَرَ اللّٰهُ بِهٖٓ اَنۡ يُّوۡصَلَ
وَيُفۡسِدُوۡنَ فِى الۡاَرۡضِ ۙ اُولٰٓئِكَ لَهُمُ اللَّعۡنَةُ وَلَهُمۡ سُوۡٓءُ الدَّارِ ﴿۲۵﴾ اَللّٰهُ يَبۡسُطُ الرِّزۡقَ لِمَنۡ يَّشَآءُ

په بنه کار سره بدئ لره دغه کسان دوئ لره بنه انجام ډکور روستنی دے (۲۲) چه جنتونه دَ همیشوالی دی داخلیږی به هغے ته اوهغه څوك چه دَ دوئ ملګرتیائے کړی وی دَ دوئ ډپلارانونه اوښځونه او اولادنه او ملائیك به داخلیږی دوئ ته دَ هرے دروازے نه (۲۳) (وائی به) سلام دِ وی پتاسو باندے په سبب دَ صبر کولو ستاسو پس بنه انجام ډکور دَ آخرت دے (۲٤) او هغه خلق چه ماتوی لوظ دَ اللّٰه تعالیٰ روستو دَ پوخ والی دَ هغے نه اوپریکوی هغه شے چه حکم کړیدے اللّٰه تعالیٰ دَ هغے دَ پیوست ساتلو او روانے کوی په ملك کښ دغه خلق دوئ لره لعنت دے او دوئ لره ناکاره کور دے(۲۵) اللّٰه تعالیٰ فراخ کوی روزی ډچاچه او غواړی

په طبعی طورسره اوخشیت خاص دے په اللّٰه تعالیٰ پورے۔

[۲۲] دے آیت کښے دَ اهل حقوځلورصفات ئے ذکرکړیدی ﴿صَبَرُوۡا﴾ صبردرے قِسمه دے صبرپه مصیبتونواومرضونو باندے اوصبر په طاعاتوکولواوصبردَ حراموا وګناهونونه ﴿اِبۡتِغَآءَ وَجۡهِ رَبِّهِمۡ﴾ په دے سره خارج دے هغه صبرچه دَ دے دَ پاره وی چه خلق ورته صابراُوائي یا دَ دے دپاره چه خلق ورباندے عیب اونه وائي یا دَ دے دَ پاره چه دُشمنان په دهٔ باندے خوشحاله نه شی داهم صبر دے لیکن ثواب په هغے باندے نه حاصلیږی ﴿وَيَدۡرَءُوۡنَ بِالۡحَسَنَةِ السَّيِّئَةَ﴾ دَ دے یومعنٰی دا ده چه دفع کوی په بیان دَ توحیداودَ سنت سره شرك اوبدعت لره۔ دویمه معنیٰ دا ده چه دفع کوی په صبراوپه بنه اخلاقوسره بد اخلاقی دَ جاهلانو۔ دریمه معنیٰ دا ده چه دفع کوی دوی په توبه کولوسره ګناهونولره۔

[۲٤،۲۳] په دے آیتونوکښ بشارت دے دغه صفاتو والو لره ﴿وَمَنۡ صَلَحَ﴾ مراد دَ دے نه موافقت اوملګرتیاکول دی دَ دے کسانودَ دعوت کوونکی سره په توحید اوسنت کښ لیکن په عمل اوپه محنت کښ دَ هغه نه کم دی﴿بِمَا صَبَرۡتُمۡ﴾ صفت دَ صبرشامل دے تیرشوؤ ټولوصفاتوته دَ دے وجے نه اکتفا ئے اوکړه په ذکر دَ دے ﴿وَمَنۡ صَلَحَ﴾ په دے کښ اشاره ده چه صرف نسب او زوجیت فائده نه ورکوی ترڅوپورے چه صلاحیت نه وی۔ اوصلاحیت نه مراد صرف موافقت دے په عقیده کښ اوپه حق پرستئے کښ صرف برابری په ټولواعمالوکښ نه ده۔

[۲۵] په دے آیت کښ ذکرَ دریوقباحاتودَ منکرینودے په مقابله دَ تیرشوؤصفاتوکښ اودَ دوی دَپاره تخویف اُخروی هم دے اوداسے په سورۃ بقره (۲۷)کښ تیرشویدی ﴿اللَّعۡنَةُ﴾ په مقابله دَ جنت اودَ سلام کښ دے ﴿سُوۡٓءُ الدَّارِ﴾ دا په مقابله دَ عقبی الدار کښ دے۔

وَيَقْدِرُ ۚ وَفَرِحُوْا بِالْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۗ وَمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا فِي الْاٰخِرَةِ اِلَّا مَتَاعٌ ﴿۲۶﴾ وَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا
لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْهِ اٰيَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ ۚ قُلْ اِنَّ اللّٰهَ يُضِلُّ مَنْ يَّشَآءُ وَيَهْدِيْٓ اِلَيْهِ مَنْ اَنَابَ ﴿۲۷﴾ اَلَّذِيْنَ
اٰمَنُوْا وَتَطْمَئِنُّ قُلُوْبُهُمْ بِذِكْرِ اللّٰهِ ۗ اَلَا بِذِكْرِ اللّٰهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوْبُ ﴿۲۸﴾ اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا

اوتنګوی اوخوشحالی کوی دوئ په ژوند دُنیوی باندے اونه دے ژوند دُنیوی دَآخرت په مقابله کښ مګر معمولی مزه ده (۲۶) او وائی کافران ولے نه نازلیږی په دهٔ باندے معجزه دَرب دَطرف نه اُوایه ته یقیناً اللّٰه تعالیٰ بے لارے کوی هغه چاله چه اوغواړی اوپه سمه لار روانوی خپل طرف ته هغه څوك چه هغه ته ورګرځی (۲۷) دا هغه دی چه ایمان ئے راوړیدے اوتسلی اخلی زړونه دَهغوئ په ذکر دَاللّٰه تعالیٰ سره خبرشئ صرف په ذکر دَاللّٰه تعالیٰ تسلی اخلی زړونه (۲۸) هغه خلق چه ایمان ئے راوړیدے او عملونه کوی

[۲۶] دَ دے ایت نه څلورم باب دے (۳۲) ایت پورے په دے کښ دلیل عقلی دے دولسم سره دَ زجرنه په ایت (۲۶) کښ، بیا زجردے منکرینودَ رسول ته په (۲۷) کښ، بیا بشارت دے (۲۹،۲۸) کښ، اثبات دَ رسالت دے سرهٔ دَ توحید نه په ایت (۳۰) کښ جواب دَ سوال دَ منکرینودے سرهٔ دَ تخویف دنیوی نه په (۳۱) کښ، بیا تسلی ده رسول ته په ایت (۳۲) کښ۔ په دے ایت (۲۶) کښ دلیل عقلی دولسم دَ توحید اوبیا زجردے په محبت دَ دنیا سره چه هغه سبب دَ تیرشوؤقباحتونودے اوپه دے ایت کښ اشاره ده جواب دَ سوال ته هغه داچه دَ دے منکرینوفراخی دَ رزق اومالداری دلالت کوی چه په دوی باندے خولعنت نیشته؟ حاصل جواب دا دے چه فراخئے دَ رزق ته اعتبارنیشته ﴿وَفَرِحُوْا﴾ دے ته فرح بطر(تکبر) وئیلے شی داحرام دے ﴿وَمَاالْحَيٰوةُ الدُّنْيَا﴾ په دے کښ تزهید فی الدنیا ذکردے۔

[۲۷] په دے ایت کښ زجردے په طلب دَ معجزے سره دَ رسول نه اوجواب دَ هغے دے اودا عطف دے په فَرِحُوا باندے اشاره ده چه دا قول دَ دوی په تکبرباندے بنا دے۔ حاصل دَ جواب دا دے چه اضلال اوهدایت په اختیاردَ اللّٰه تعالیٰ کښ دے نومعجزات هم دَ هغه په اختیارکښ دی ﴿مَنْ اَنَابَ﴾ دَ انابت معنیٰ دا ده چه حق کوم طرفته وی نوبنده په زړه سره هغے طرفته ګرځی بغیردَ ضد اوعناد نه اوپه دے ایت کښ دَ اٰیَةٌ نه مراد هغه معجزه ده چه دَ فراخئے دَ رزق سره تعلق لری لکه په سورة بنی اسرائیل (۹۱۔۹۳) کښ دی۔

[۲۸] په دے ایت کښ بشارت دے۔اواطمینان بذکراللّٰه نه مراد یقین کول دی په خبره کله چه قرآن اوسنت ذکرشی دویمه معنیٰ دا ده چه په توحید دَ اللّٰه تعالیٰ سره اوپه قرآن لوستلوسره دَ زړه سکون حاصلیږی ﴿اَلَا بِذِكْرِ اللّٰهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوْبُ﴾ هرکله چه په مخکښ جمله کښ تخصیص نه وؤنودا جمله ئے تخصیص دَ پیداکولو دَ پاره ذکرکړه اودَ دے وجے بذکر اللّٰه مقدم کړواصل دَ ایت دادے چه اطمینان خاص دے په مؤمنانواوخاص دے په ذکر دَاللّٰه تعالیٰ پورے اومراد دَ دے نه قرآن اوسنت دے اودارنګ ذکرقلبی اولسانی دائمًا دے نوپه دے کښ داخل ده دا خبره چه قسم اوشی په اللّٰه تعالیٰ باندے نودَ مؤمن زړه وربانده تسلی اوکړی دارنګ په دلیل کښ چه قرآن اوحدیث ذکر شی نویقین پیدا شی۔

الصّٰلِحٰتِ طُوْبٰى لَهُمْ وَحُسْنُ مَاٰبٍ ﴿۲۹﴾ كَذٰلِكَ اَرْسَلْنٰكَ فِيْٓ اُمَّةٍ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهَآ اُمَمٌ لِّتَتْلُوَا عَلَيْهِمُ
الَّذِيْٓ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ وَهُمْ يَكْفُرُوْنَ بِالرَّحْمٰنِ ۭ قُلْ هُوَ رَبِّيْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۭ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَاِلَيْهِ
مَتَابِ ﴿۳۰﴾ وَلَوْ اَنَّ قُرْاٰنًا سُيِّرَتْ بِهِ الْجِبَالُ اَوْ قُطِّعَتْ بِهِ الْاَرْضُ اَوْ كُلِّمَ بِهِ الْمَوْتٰى ۭ بَلْ لِّلّٰهِ
الْاَمْرُ جَمِيْعًا ۭ اَفَلَمْ يَايْــَٔسِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْ لَّوْ يَشَاۗءُ اللّٰهُ لَهَدَى النَّاسَ جَمِيْعًا ۭ وَلَا يَزَالُ
الَّذِيْنَ كَفَرُوْا تُصِيْبُهُمْ بِمَا صَنَعُوْا قَارِعَةٌ اَوْ تَحُلُّ قَرِيْبًا مِّنْ دَارِهِمْ حَتّٰى يَاْتِيَ وَعْدُ اللّٰهِ ۭ اِنَّ اللّٰهَ
لَا يُخْلِفُ الْمِيْعَادَ ﴿۳۱﴾ وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ مِّنْ قَبْلِكَ فَاَمْلَيْتُ لِلَّذِيْنَ كَفَرُوْا ثُمَّ اَخَذْتُهُمْ ف ع

دَنبی په تابعداریٔ خوشحالی ده هغوئ لره اوخائسته انجام دے (۲۹) دغه شان لیږلے ئے مونږ ته په داسے اُمت کښ یقیناً چه تیر شوی دی مخکښ دَ دهٔ نه اُمتونه دپاره دَ دے چه بیان کړے په دوئ باندے هغه کتاب چه وحی کړے ده مونږ تاته او دوئ انکار کوی دَ رحمٰن دَ بندګئ نه اُوایه هغه رب زما دے نیشته حقدار دَبندګئ سیوا دَهغه نه خاص په هغه باندے توکل کړیدے مااو خاص هغه ته ورګرزیدل دی (۳۰) اوکه چرے وے قرآن چه بوتلے شوے په هغه سره غرونه یا قَطع کیدے شی په هغے باندے زمکه یاخبرے کیدے شوے په سبب دَهغے دَمړو سره بلکه خاص اللّٰه تعالیٰ لره ټول اختیار دے آیا پس نه پوهیږی ایمان والا چه که چرے غوښتلے اللّٰه تعالیٰ خامخا په هدایت به ئے روان کړے وے ټول خلق اوهمیشه وی کافران خلق چه ور رسی دوئ ته په وجه دَهغه کارونو چه دوئ کوی افت یابه راشی (آفت) نزدے دَ دوئ ملك ته ترهغه پورے چه راشی وعده دَ اللّٰه تعالیٰ یقیناً اللّٰه تعالیٰ خلاف نه کوی دَ وعدے خپلے نه (۳۱) او یقیناً ټوقے کړے شویدی په ډیرو رسولانو پورے ستانه مخکښ پس مهلت مے ورکړو کافرانو لره بیا ما اونیول دوئ لره

[۲۹] په دے ایت کښ هم بشارت دے ﴿طُوْبٰى﴾ په معنیٰ دَ حالت طیبه سره دے نوشامل دے جنت ته اوونودَ جنت ته اوټولونعمتونودَ جنت ته۔

[۳۰] په دے ایت کښ اثبات دَ رسالت دَ رسول دے سره دَ حکمت دَ ارسال نه اوذکرَ دعوے دَ توحید دے چه هغه خلاصه دَ وحی ده۔ اودیته دلیل وحی هم وائي ﴿وَهُمْ يَكْفُرُوْنَ بِالرَّحْمٰنِ﴾ مراد دَدینه انکار دے دَ توحید دَ اللّٰه تعالیٰ نه په رحمانیت کښ یعنی رحمان صفت دَ اللّٰه منی لیکن تخصیص ئے په هغه پورے نه منی دَ دے وجے نه دوی به مسیلمة الکذاب ته رحمان الیمامه وئیلو یا مراد دَ یکفرون نه شرك دے ﴿قُلْ هُوَ رَبِّيْ﴾ دا بیان دے دَ الذی او حینا یعنی خلاصه دَ وحی توحید دَ ربوبیت اودَ الوهیت دے اودا ځلور جملے دَتوحید دی۔

فائده: ﴿كَذٰلِكَ اَرْسَلْنٰكَ﴾ دلته مشبه ذکرنه ده نومعلومه شوه چه کاف په معنیٰ دَ لام اجلیه دے یعنی هرکله چه ذریعه دَ اطمینان دَ زړونو دَ پاره ذکر اللّٰه (وحی) ده نو مونږ ته دَ وحی بیانولو دَ پاره رااولیګلے۔ ﴿قَدْ خَلَتْ﴾ دلالت کوی چه دا امت اخرالامم دے لکه چه نبی دَ دوی هم خاتم الانبیاء دے ﷺ۔

[۳۱] پدے آیت کښ جواب دے دَ مطالبے دَ دوی آیاتونولره یعنی دوی مطالبه کوله چه دا قرآن به حق

فَكَيۡفَ كَانَ عِقَابِ ﴿۳۲﴾ اَفَمَنۡ هُوَ قَآئِمٌ عَلٰى كُلِّ نَفۡسٍۭ بِمَا كَسَبَتۡ ؕ وَجَعَلُوۡا لِلّٰهِ شُرَكَآءَ ؕ قُلۡ سَمُّوۡهُمۡ ؕ اَمۡ تُنَبِّـُٔوۡنَهٗ بِمَا لَا يَعۡلَمُ فِى الۡاَرۡضِ اَمۡ بِظَاهِرٍ مِّنَ الۡقَوۡلِ ؕ بَلۡ زُيِّنَ لِلَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا مَكۡرُهُمۡ وَصُدُّوۡا

پس څرنګ وو عذاب زما دوئ لره (۳۲) آیا پس هغه ذات چه تدبیر کوی دَهرنفس سره دَعملونو دَ هغه نه اومقرر کړیدی دوئ اللّٰه لره برخی والا اُوایه دَ دوئ کمال اوښائیی آیا خبر ورکوئ اللّٰه لره دَهغه څه چه نه ئی پیژنی په زمکه کښی یاپه سرسری وینا سره بلکه خائسته کړی شوی دی کافرانو لره بدعملونه دَهغوئ او بندکړی شوی دی

وی په هغه وخت کښی چه دَ دے په وجه دَ مکے غرونه لرے کړی یا زمکه سوریٔ کړی اوچینے ترے اوباسی یا مړی راژوندی کړی چه هغوی مونږسره خبرے اوکړی۔ حاصل دَ جواب دا دے که داکارونه اوکړے شی نوهم دوی ایمان نه راوړی﴿وَلَوۡ اَنَّ قُرۡاٰنًا﴾ مراد دَ دے نه لوستلے شوے کتاب دے په طریقه دَ عموم سره او جزا دَ لَوۡحذف ده هغه دا ده لکان هذا القرآن نو معنیٰ دا شوه که په یولوستلے شوی کتاب سره دا کارونه کیدے شوے نو خامخا هغه کتاب به دا قرآن وی لیکن داکارونه په کتاب سره نه کیږی بلکه دَ اللّٰه تعالیٰ په اختیار کښے دی ۔ او دویمه معنیٰ دا ده چه قراناً نه مراد دا قرآن دے یعنی نکره په معنیٰ دَ معرفے ده اوجزا حذف ده چه لَمَا آمنودے نومعنیٰ دا شوه که پدے قرآن سره دِاکارونه اوکړے شی بیا هم داخلق ایمان نه راوړی ځکه چه اختیاردَ ایمان دَ دوی دَ اللّٰه تعالیٰ سره دے ﴿اَوۡ قُطِّعَتۡ بِهِ الۡاَرۡضُ﴾ خازن وئیلی دی چه مراد دا دے چه زمکه اوچولے شی او نهرونه اوچینے ترینه را اوځی لکه په سورة بنی اسرائیل (۹۱) کښی دی۔ اوبعضومفسرینووئیلی دی چه په سیرت به الجبال کښی معجزے دَ داؤدعليه السلام ته اشاره ده او قُطِّعَت بِهِ الأَرضُ کښی مسافت قطع کول په لږوخت کښی پشان دَ تخت دَسلیمانعليه السلام ته اشاره ده۔ ﴿اَفَلَمۡ يَايۡئَسِ، اِلٰى اخره﴾ دا جواب دَ سوال دَ مؤمنانو دے یعنی مؤمنان غواړی چه دا معجزات دے نبیﷺ ته ورکړے شی نوټول خلق به مؤمنان شی نوجواب اوکړے شوچه ایا دامؤمنان دومره هم نه پوهیږی چه هدایت خوپه مشیت دَ اللّٰه تعالیٰ سره دے ﴿اَفَلَمۡ يَايۡئَسِ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡۤا﴾ لیث اوابوعبید اوقطرب وئیلی دی چه دا په معنیٰ دَ علم سره دے اوکسائي دَ دے نه انکارکړے دے اووئیلی ئیے دی چه داپه معنیٰ دَ نا اُمید ئے سره دے یعنی ایا نه دی نا اُمیده شوی مؤمنان دَ ایمان دَکافرانونه وَیعلمواعلماً یقیناً ان لویشاء اللّٰه اه لیکن دَکسائي نه موندل دلیل دَعدم وجود نه دے ﴿وَلَا يَزَالُ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا﴾ په دے کښی تسلی ده مؤمنانوته اوتخویف دَعذاب دے کافرانوته ﴿اَوۡ تَحُلُّ قَرِيۡبًا مِّنۡ دَارِهِمۡ﴾ دا صیغه دَمؤنث ده اوضمیر راجع دے قارعة ته نومعنیٰ دا شوه چه قارعه که په دوی باندے را نشی نونازل به شی نزدے دَ دوی ملك ته پدیکښی اشاره ده چه عذاب دَ دنیا کله په منکرقوم باندے راځی اوکله دَ دوی نزدے په نورومستحقینودا عذاب نازل شی دَ پاره دَعبرت دَ دوی۔ اودویمه معنیٰ دا ده چه تَحُلُّ صیغه دَ مخاطب ده خطاب دے نبیﷺ ته معنیٰ دا ده چه نازل شی په طریقه دَغلبے دَ دوی ملك ته نزدے لکه چه رسول اللّٰهﷺ دَ مکے سره نزدے په نورو کلوباندے غلبه حاصل کړه ﴿حَتّٰى يَاۡتِىَ وَعۡدُ اللّٰهِ﴾ مراد دَ دے نه فتح دَمکے ده یاورځ دَ قیامت ده۔

[۳۲] په دے آیت کښی اشاره ده چه طلب دَ معجزاتودَ دے منکرینوپه حقیقت کښی استهزاء ده اوپه

عَنِ السَّبِيۡلِ ؕ وَمَنۡ يُّضۡلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنۡ هَادٍ ﴿۳۳﴾ لَهُمۡ عَذَابٌ فِى الۡحَيٰوةِ الدُّنۡيَا وَلَعَذَابُ الۡاٰخِرَةِ
اَشَقُّ ۚ وَمَا لَهُمۡ مِّنَ اللّٰهِ مِنۡ وَّاقٍ ﴿۳۴﴾ مَثَلُ الۡجَنَّةِ الَّتِىۡ وُعِدَ الۡمُتَّقُوۡنَ ؕ تَجۡرِىۡ مِنۡ تَحۡتِهَا الۡاَنۡهٰرُ ؕ
اُكُلُهَا دَآئِمٌ وَّظِلُّهَا ؕ تِلۡكَ عُقۡبَى الَّذِيۡنَ اتَّقَوۡا ۖ وَّعُقۡبَى الۡكٰفِرِيۡنَ النَّارُ ﴿۳۵﴾ وَالَّذِيۡنَ اٰتَيۡنٰهُمُ الۡكِتٰبَ
يَفۡرَحُوۡنَ بِمَاۤ اُنۡزِلَ اِلَيۡكَ وَمِنَ الۡاَحۡزَابِ مَنۡ يُّنۡكِرُ بَعۡضَهٗ ؕ قُلۡ اِنَّمَاۤ اُمِرۡتُ اَنۡ اَعۡبُدَ اللّٰهَ وَلَاۤ اُشۡرِكَ

دَسمے لارے نه اوهغه څوك چه اللّٰه تعالیٰ ئے بے لارے كړی پس نیشته هغه لره په لار روانوئكے (۳۳) دوئ لره عذاب دے په ژوند دُنیوی كښ اوخامخا عذاب دَ آخرت ډیرسخت دے اونیشته دوئ لره دَ اللّٰه تعالیٰ نه هیڅوك بچ كوونكے (۳٤) حال دَهغه جنت چه وعده ئے كړے شویده دَمتقیانو سره چه بهیږی لاندے دَهغے نه ولے میوے دَ هغے همیشه دی اوسورے (هم همیشه دے) دا انجام دَ متقیانو دے او انجام دَ كافرانو اُور دے(۳۵) اوهغه كسان چه وركړے دے مونږ هغوئ ته كتاب خوشحالیږی په هغه څه چه نازل كړے شوے دے تاته او دَ دے ډلونه داسے خلق دی چه انكار كوی دَبعضے حصے دَ قرآن نه اُوایه ته یقیناً ماته امر كړے شویدے چه بندگی خاص كړم دَ اللّٰه تعالیٰ او شرك ور سره نه كوم

دیكښ تسلی ده پیغمبر ته لكه چه څنگه مخكنوقومونو ته ئے مهلت وركړے وؤاوبیائیے په عذاب سره اونیول نودا سے به ستا قوم سره هم اوكړی۔

[۳۳] دَ دے آیت نه پنځم باب دے ترآیت (۳۷) پورے پدے باب كښ دلیل عقلی دے دیارلسم، اوزجردے مشركینوته په آیت (۳۳) كښ بیا تخویف دے په (۳٤) كښ، بیا بشارت دے په (۳۵) كښے، بیا دلیل نقلی دے دَ اهل كتابونه سرهٔ دَ دلیل وحی نه په (۳٦) كښ، بیا ترغیب دے قرآن ته په (۳۷) كښ۔ پدے آیت كښ دلیل عقلی دے اولاً اوبیا زجردے مشركانوته ﴿قَآئِمٌ﴾ مراد دَ دے نه تدبیر كوونكی دَكارونودَ خلقویاپه معنیٰ دَعالم دے اوجواب دَ دے حذف دے یعنی كمن هولیس كذالك ﴿سَمُّوۡهُمۡ﴾ مراد دَ دے نه بیانول دَ داسے صفاتواو كمالاتودی چه په هغے سره حقدارد الوهیت كړئی ﴿بِمَا لَا يَعۡلَمُ فِى الۡاَرۡضِ﴾ معنیٰ دا ده چه اللّٰه تعالیٰ ته خپل شریك پدے زمكه كښے ندے معلوم اوتاسوورله خبروركوئ چه فلانكے ستا شریك دے اوعدم علم كنایه ده دَ عدم وجودنه ﴿فِى الۡاَرۡضِ﴾ تخصیص ئے ځكه اوكړوچه دلته رد دے په هغه چاچه اللّٰه تعالیٰ لره په زمكه كښ شریك جوړوی اوسورة یونس آیت (۱۸) كښے دَعامومشركانو رد دے نوځكه هلته دَ اسمانونواودَ زمكودواړوذكرئیے كړیدے ﴿اَمۡ بِظَاهِرٍ مِّنَ الۡقَوۡلِ﴾ بظاهرپه معنیٰ دَسرسری دے یعنی چه په حقیقت باندے بنانه وی اودلیل ئے هم نه وی اوهغه باطل وی ﴿مَّكۡرُهُمۡ﴾ مراد دَ دے نه اعمال مُشركانه دی ﴿وَصُدُّوۡا﴾ دا عطف دَ مسبب دے په سبب باندے۔

[۳٤] په دے كښ تخویف دنیوی او اُخروی دواړه دی۔ تخویف دنیوی په قحطونوطوفانونو وغیره سره دے ﴿اَشَقُّ﴾ دا لفظ دَ اكبراواغلظ نه په معنیٰ كښ زیات دے یعنی سره دَ لوئے والی اوغټ والی ئے سختی هم ډیره ده ﴿وَاقٍ﴾ صرف بچ كوؤنكے كه ولایت ور سره وی اوكه نه وی او وال هغه دے چه سرهٔ دَ ولایت نه حفاظت هم كوی۔

[۳۵] په دے آیت كښ بشارت دے مؤمنانوته اوتقابل دے دَكافرانوسره په عاقبت كښ ﴿اُكُلُهَا دَآئِمٌ﴾

بِهٖ ؕ اِلَيْهِ اَدْعُوْا وَاِلَيْهِ مَاٰبِ ﴿۳۶﴾ وَكَذٰلِكَ اَنْزَلْنٰهُ حُكْمًا عَرَبِيًّا ؕ وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ اَهْوَآءَهُمْ بَعْدَ مَا
جَآءَكَ مِنَ الْعِلْمِ ۙ مَا لَكَ مِنَ اللّٰهِ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا وَاقٍ ﴿۳۷﴾ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا رُسُلًا مِّنْ قَبْلِكَ وَجَعَلْنَا
لَهُمْ اَزْوَاجًا وَّذُرِّيَّةً ؕ وَمَا كَانَ لِرَسُوْلٍ اَنْ يَّاْتِيَ بِاٰيَةٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ لِكُلِّ اَجَلٍ كِتَابٌ ﴿۳۸﴾

دَهغه توحید ته خلق بلم او خاص هغه ته ورکړځیدل زمادی (۳۶) او دغسے نازل کړے دے مونږ دا قرآن فیصله په واضحه ژبے سره اوکه تا تابعداری اوکړه دَ خواهشاتو دَ دوئ روستو دَهغے نه چه راغلے دے تاته قرآن نو نیشته تاله دَ اللّٰه تعالیٰ نه څوك ساتونکے او څوك بچ کوونکے(۳۷) او یقیناً لیږلی دی مونږ ډیر رسولان پخوا ستانه او پیداکړی وو مونږ هغوئ لره بیبیانے او اولاد او نیشته طاقت دَرسول چه راوړی معجزه مګر په اذن دَ اللّٰه تعالیٰ سره هرے نیټے لره لیکل شته دے (۳۸)

دا دلیل دے چه جنت باندے فنانه راځی۔

[۳۶] په دے آیت کښ دلیل نقلی دے دَ مؤمنانواهل کتابونه اولاً ځکه چه اتیناهم په نیکانو کتابیانو کښ استعمالیږی ﴿يَفْرَحُوْنَ﴾ اشاره ده چه فرح دَنیکانوعلماؤپه کتاب اللّٰه باندے پکاردہ لکه چه سورة یونس (۵۸) کښ ده۔ او دَ دے ﴿اٰتَيْنَا هُمُ الْكِتٰبَ﴾ مصداق صحابه کرام اودا امت دے یا مخکنی کتابیان مؤمنان مراد دی داسے خازن ذکر کړیدی۔ هر کله چه په دے آیت کښ تقابل دَ مؤمن او منکر مقصد دے او دَ تقابل دَ پاره عقیدهٔ دَ توحید سره دَ دعوت نه او عقیده دَ قیامت پکار ده نودلته ئے هغه ذکرکړوچه اَنْ اَعْبُدَ اللّٰهَ وَلَآ اُشْرِكَ۔ اوپه (۳۰) کښ صرف اظهار دَ عقیدے په باره دَ رحمٰن کښ مراد وونو هلته ئے دعوت نه دے ذکرکړے اودَ رحمانیت سره توبه هم مناسب وه بیا زجردے منکرینوته اوبیا دلیل وحی دے ﴿مَنْ يُّنْكِرُ بَعْضَهٗ﴾ دَ بعضه نه مراد مسئله دَتوحید ده ځکه چه دوی قرآن منی لیکن توحید پکښ نه منی لکه سورة اسراء ایت(٤٦) کښ چه ذکردی۔

[۳۷] په دے آیت کښ ترغیب دے قرآن ته چه دا قرآن دَ حکم دَ پاره نازل شویدے اوهغه حکم تیرشوی ایت کښ ذکرشو بیا زجردے په تابعدارئ دَ بے دلیله خبروچه هغے ته اهواء وئیلے شی پس دَ راتلودَ قرآن نه اومراد دَ علم نه قرآن دے او ﴿وَكَذٰلِكَ﴾ عطف دے په معنیٰ دَ ماقبل باندے یعنی لکه څنګه چه مونږامرکړے دے په توحید سره نودارنګ نازل کړیدے مونږدَپاره دَ واضحو فیصلو۔

[۳۸] دَ دے ایت نه تر اخردَ سورة پورے شپږم باب دے۔ په دے باب کښ جوابونه دی دَ هغه شبهاتوچه واردیږی په رسالت باندے په (۳۹،۳۸) کښ بیا تسلی ده رسول اللّٰهﷺ ته په(٤٠) کښ بیا تخویف دنیوی دے په (٤٢،٤١) کښ بیا زجردے په انکاردَ رسالت سره اواثبات دَهغے دے په شهادت سره په(٤٣) کښ۔ پدے (۳۸) ایت کښ جوابونه دَ درے شبهاتودی دَ منکرینو چه تابعداری کوی دَ خواهشاتو۔ اوله شبهه دا ده چه دا رسول مونږ نه منو ځکه چه دے بشر دے او دَ دهٔ ښځے او اولاد شته نو جواب اوشو چه داسے دَ مخکنو رسولانوهم وؤ۔ اوپه دے کښ ضمناً رد دے چه تاسو وائیے چه مونږ دَ ابراهیمؑ اولادیو نو هغه خوهم رسول وؤ اوهم ئے ښځه اواولاد وؤکه هغه بشرنه وے نوتاسوترینه څنګه پیداشوئے دویمه شبهه دا ده چه دا رسول که رشتینے وی نومونږ له دے معجزات راوړی جواب اوشوچه ﴿وَمَا كَانَ لِرَسُوْلٍ اَنْ يَّاْتِيَ

يَمْحُوا اللّٰهُ مَا يَشَآءُ وَيُثْبِتُ ۚ وَعِنْدَهٗٓ اُمُّ الْكِتٰبِ ﴿۳۹﴾ وَاِنْ مَّا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ الَّذِيْ
نَعِدُهُمْ اَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَاِنَّمَا عَلَيْكَ الْبَلٰغُ وَعَلَيْنَا الْحِسَابُ ﴿۴۰﴾ اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّا نَاْتِي الْاَرْضَ نَنْقُصُهَا
مِنْ اَطْرَافِهَا ۭ وَاللّٰهُ يَحْكُمُ لَا مُعَقِّبَ لِحُكْمِهٖ ۭ وَهُوَ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ﴿۴۱﴾ وَقَدْ مَكَرَ الَّذِيْنَ مِنْ

ورانوی اللّٰه تعالیٰ څه چه اوغواړی او باقی پریږ دی (څه چه اوغواړی) او دَهغه سره اصلی کتاب دے (۳۹) اوکه اوښایو مونږ تاته بعضے هغه عذاب چه دوئ سره وعده کؤو یاوفات کړو تا پس یقیناً په تا باندے رَسول دی او په مونږ باندے حساب کول دی(٤٠) آیا دوئ فکرنه کوی چه رازو مونږ دَ دوئ ملك ته او نیمګړے کؤو دَ غاړونه او اللّٰه تعالیٰ فیصله کوی نیشته روستو کوونکے دَ فیصلے دَ هغه او هغه زر حساب کوونکے دے(٤١) او یقیناً مکرونه کړی وو هغه کسانو چه دَ

بِاٰيَةٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ﴾ معلومه شوه چه په معجزاتو کښ دَ پیغمبرانوهیڅ اختیارنه وی اودارنګ په سورة ابراهیم (۱۱)اوسورة انعام (۱۰۹) اوسورة عنکبوت (۵۰) کښ ذکرشویدی۔ دریمه شبهه هرکله چه دا رسول حق دے اومونږ انکارکوؤ نوپه مونږ باندے عذاب ولے نه راځی جواب دا دے لِكُلِّ اَجَلٍ كِتَابٌ۔

[۳۹] دا دَ ځلورمے شبهے جواب دے شبهه دا ده چه هرکله چه زمونږ دَ پاره عذاب لیکلے شوے وی نو بیا ایمان راوړلو کښ څه فائده ده حاصل دَ جواب دا دے چه اللّٰه تعالیٰ بعضِ اشیاء محوکوی که تاسو ایمان راوړئے نو اللّٰه تعالیٰ به ستاسو عذاب محوکړی ﴿يَمْحُوا اللّٰهُ مَا يَشَآءُ وَيُثْبِتُ﴾ یو معنیٰ دا ده چه اللّٰه تعالیٰ سره یو کتاب المحو والاثبات شته دے اوهغه کتاب دَ ملائکو سره دے دَ هغوی دَ علم په نسبت پکښ محواواثبات کیږی اوهغه دَ ام الکتاب لوح محفوظ نه سیوا دے۔ اودے اول ته تقدیرمعلق هم وائي۔ اودویم ته تقدیر مبرم وائی ۔دویمه معنیٰ داده چه اللّٰه تعالیٰ دَ احکامومنزلونه بعض احکام منسوخ کړی او بعضِ په ځائے باندے ثابت پریږدی۔ اودریمه معنیٰ داده چه اللّٰه تعالیٰ بعض ګناهونه معاف کوی په توبے سره اوثابت کړی دَ هغے په بدل کښ حسناتولره۔ اوځلورمه معنیٰ دا ده چه اللّٰه تعالیٰ بعضِ ګناهونه معاف کوی بغیرد توبے نه اوبعض ثابت پریږدی یعنی بغیر دَ توبے نه نه معاف کوی۔

[٤٠] په دے کښ روستودَ دفع کولو دَ شبهاتونه رسول اللّٰهﷺ ته تسلّی ده۔ حاصل دا چه په دے منکرینو باندے به عذاب راځی ستاپه ژوند کښے پس ته به ئے اوویني یا پس دَ وفات ستانه۔ لیکن ستا په ذمه بلاغ دے عذاب به په خپل وخت راځی ته دَ هغے پرواه مهٔ کوه او داسے په سورة یونس (٤٢)کښ اوسورة زخرف (٤١،٤٢)کښ هم ذکرشوی دی۔ اودَ اِن جزاء په اصل کښ پته ده یعنی دَ دوی دَ عذاب فکرمکوه اوپه دے ایت کښ وفات ئے دَ نُرِيَنَّكَ سره مقابله کښ ذکرکړے دے اشاره ده چه روستو دَ وفات نه نبیﷺ دَ دُنیا حالات لیدلے نشی۔

[٤١] په دے ایت تخویف دنیوی دے۔ چه تیرشوی آیت کښ دَ هغے ذکر اوشواومراد نقصان الاطراف نه غالب کول دَمؤمنانودی په بعضے علاقو باندے اوداخلیدل دَبعضوخلقو دی په ایمان کښے۔ یا مراد دا دے چه دَ زمکے نه برکات اومیوے وغیره کموؤاوعذابونه سیلابونه طوفانونه راولوپه سبب دَشرك او دَګناهونودَخلقوسره۔ اودَ آیت په عموم کښ داهم داخل ده چه علماء اوصالحین خلق وفات کوؤ۔په

قَبۡلِهِمۡ فَلِلّٰهِ الۡمَكۡرُ جَمِيۡعًا ؕ يَعۡلَمُ مَا تَكۡسِبُ كُلُّ نَفۡسٍ ؕ وَسَيَعۡلَمُ الۡكُفّٰرُ لِمَنۡ عُقۡبَى الدَّارِ ﴿۴۲﴾ وَيَقُوۡلُ
الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا لَسۡتَ مُرۡسَلًا ؕ قُلۡ كَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيۡدًا ۢ بَيۡنِىۡ وَبَيۡنَكُمۡ ۙ وَمَنۡ عِنۡدَهٗ عِلۡمُ الۡكِتٰبِ ﴿۴۳﴾ ع

دوی نه مخکښ وو پس دَ اللّٰه تعالیٰ اختیار کښ دی دَ دوئ مکرونه ټول پوهه دے په هغه کارونو چه کوی ئے هر نفس او زربه پوهه شی کافران چه چاڑه دَ آخرت ښه انجام دے (٤٢) او وائی هغه کسان چه کافران دی چه ته رسوُل نه ئیے اُوایه ته کافی دے اللّٰه تعالیٰ فیصله کوونکے په مینځ زما او ستاسو کښ او هغه څوك چه دَ هغه سره پوهه دَ کتاب ده (٤٣)

اوله توجیه باندے اعتراض دے چه دا سورة مکیه دے اوغلبه دَ اسلام خوپه مدینه کښ وه؟ جواب دا دے اگرچه سورة مکیه دے لیکن دا آیت په کښ مدنیه دے۔

[٤٢] اشاره ده چه عذاب دَ اللّٰه تعالیٰ دَ چاپه مکرونواوتدبیرونوسره نشی دفع کیدے ﴿فَلِلّٰهِ الۡمَكۡرُ جَمِيۡعًا﴾ یعنی مکرکه دَ خیر وی یا دَ شر وی نوپه هغے کښ تاثیر اچول دَ اللّٰه تعالیٰ اختیار دے۔

[٤٣] په دے آیت کښ زجردے په انکار دَ رسالت سره اواثبات دَ رسالت دَ رسول دے په شهادت دَ اللّٰه تعالیٰ سره او دارنګ په سورة عنکبوت (٥٢)کښ اوسورة احقاف (٨)کښ هم دی ﴿وَمَنۡ عِنۡدَهٗ عِلۡمُ الۡكِتٰبِ﴾ مراد دَدے نه شهادت دَ کتابیانومؤمنانو دے لکه په دے سورة (٣٦)کښ ذکرشول یا مراد دَ دے نه جبرائیل علیه السلام دے۔ یا مراد دَ دے نه ټول مؤمنان دی او مراد دَ کتاب نه قرآن دے او بله توجیه دا ده چه وَمَن عِندَهُ عِلمُ الکِتٰبِ په طریقه دَ قسم سره دے یعنی قسم دے په هغه ذات باندے چه هغه سره علم دَ ټولو کتابونو دے۔

سُوْرَةُ اِبْرٰهِيْمَ (۱۴) مَكِّيَّةٌ (۷۲) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۵۲ رُكُوْعَاتُهَا ۷

الٓرٰ ۚ كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ اِلَيْكَ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ ۙ بِاِذْنِ رَبِّهِمْ اِلٰى صِرَاطِ الْعَزِيْزِ الْحَمِيْدِ ۙ﴿۱﴾ اللّٰهِ الَّذِيْ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۭ وَوَيْلٌ لِّلْكٰفِرِيْنَ مِنْ عَذَابٍ شَدِيْدِ ۙ﴿۲﴾

الٓرٰ داکتاب دے مونږ نازل کړیدے تاته دپاره دَ دے چه او باسے خلقو لره دَتیارونه رنړا ته په حکم دَ رب دَ دوئ لارے دَهغه ذات ته چه زور ور ستائیلے شوے دے (۱) اللّٰه تعالیٰ هغه ذات دے چه دَ هغه اختیار کښ دی هغه څه چه په آسمانونو کښ دی اوهغه څه چه په زمکه کښ دی او تباهی ده کافرانولره دَوجے دَسخت عذاب نه(۲)

سورة ابراهيم

ربط : دَ سورة ابراهيم دَ سورة رعد سره دا دے چه سورة رعد کښ دليلونه عقلی وؤ په طريقه دَ تنبيه په مسئله دَ توحيد باندے نوپه دے سورة کښ تذکيرورکول دی په دُنيوی اواخروی واقعاتوسره۔ دارنګ په هغه سورة کښ صدق دَ قرآن اورسول ذکر شو اوپه دے سورة کښ مقصد دَ دواړو ذکر کوی۔

دعویٰ دَ دے سورة: ويستل دَ خلقو دی دَ ظلماتونه نورته په کتاب اللّٰه سره او په تذکير دَ ايام اللّٰه سره چه هغے ته واقعات دُنيويه او اُخرويه وائي اودَ ظلماتونه مراد څلورِ اقسام دَ شرك دی شرك په علم کښ اوشرك په تصرف کښ اوشرك په عبادت کښ اوشرك په دُعا کښ په دے سورة کښ رد دے په دغه اقسامو دَ شرك باندے په عقلی اونقلی دليلونوسره اوپه مثالونوسره او دَ نورنه مراد معرفت دَ اللّٰه تعالیٰ دے په توحيد سره په طريقه دَ ابراهيم عليه السلام او په څوارلس اسماءِ حسنیٰ سره۔

خلاصه دَ سورة: دا سورة تقسيم دے پنځه بابونو ته باب اول تر(۸) پورے دے په ديکښ اول تشجيع ده په تبليغ باندے او هغه ويستل دَ خلقو دی دَظلماتونه رنړا ته۔ بيا دليل عقلی دے مختصرسره دَ تخويف نه په (۲) کښ بيا زجردے په صفاتوقبيحو سره په (۳) کښ بيا تاکيد دَ دعوے دَ سورة چه رسولان ليږلے شويدی په دے مقصد سره په (٤) کښ بيا دليل نقلی دے دَ موسیٰ عليه السلام نه دَ پاره دَ تاکيد دَ دعوے دَ سورة دَ (٥) نه تر(۸) پورے۔

تفسير

[۱] پدے آيت کښ دعوه دَ سورة ده چه هغه تشجيع ده په تبليغ باندے اوپدے کښ ذکردے دَ حکمت دَ انزال دَ قرآن اومراد دَ ظلمات نه کفراوشرك اوبدعت اوجهل اوشك دے اومراد دَ نورنه ايمان اوتوحيد اوسنت اوعلم او يقين دے۔

فائده: لفظ دَ ظلمات جمع ده اولفظ دَ نورمفرد دے پديکښے اشاره ده چه لارے دَشرك اوبدعت ډيرے دی اولاردَ خيريوه ده ﴿بِاِذْنِ رَبِّهِمْ﴾ اشاره ده چه نبی عليه السلام هم په اخراج من الظلمات کښ حکم دَ اللّٰه تعالیٰ اودَ هغه توفيق ته محتاج دے ﴿اِلٰى صِرَاطِ﴾ دا بدل دے دَ الی النورنه اولفظ دَ عزيزاوحميد کښ اشاره ده چه دا صراط سبب دَ عزت اودَ حمد دے دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه۔

[۲] پدے آيت کښ مختصر دليل عقلی دے او تخويف دے ﴿لِلْكٰفِرِيْنَ﴾ کښ اشاره ده اصحاب

الَّذِيْنَ يَسْتَحِبُّوْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا عَلَى الْاٰخِرَةِ وَيَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَيَبْغُوْنَهَا عِوَجًا ؕ
اُولٰٓئِكَ فِيْ ضَلٰلٍۢ بَعِيْدٍ ۞ وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا بِلِسَانِ قَوْمِهٖ لِيُبَيِّنَ لَهُمْ ؕ فَيُضِلُّ اللّٰهُ مَنْ
يَّشَآءُ وَيَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۞ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا مُوْسٰى بِاٰيٰتِنَآ اَنْ اَخْرِجْ قَوْمَكَ مِنَ
الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ ۙ وَذَكِّرْهُمْ بِاَيّٰىمِ اللّٰهِ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُوْرٍ ۞ وَاِذْ قَالَ مُوْسٰى

داهغه خلق دی چه خوښوی ژوند دُنیوی لره په آخرت باندې او منع کوی دَ اللّٰه تعالیٰ دَ لارې نه (خلقو لره) او لټوی په هغې کښ کږلیچ دغه خلق په ګمراهئ لرې کښ دی (۳) اونه دے لیږلے مونږ هیڅ رسول مګر په ژبه دَ قوم دَهغه دپاره دَ دے چه بیان کړی دوئ ته (احکام دَ اللّٰه تعالیٰ) پس بے لارے کوی اللّٰه تعالیٰ هغه څوك چه اوغواړی اوپه سمه لار بوځی هغه څوك چه اوغواړی او هغه اللّٰه تعالیٰ زور ور اوحکمتونو والا دے(٤) او یقیناً مونږ لیږلے ووموسیٰ(علیه السلام) په آیاتونو خپلو سره چه اوباسه قوم خپل دَ تیارونه رنړاته او وریاد کړه دوئ ته عبرتناك واقعات دَ اللّٰه تعالیٰ یقیناً په دے کښ دلیلونه دی هر ډیر صبر ناك او ډیر شکر ګذارلره (٥) اوکله چه اُوئیل موسیٰ(علیه السلام)

الظلمات ته۔

[۳] په دے آیت کښ ذکرَ صفتونوقبیحوڅدَمنکرینودے دَپاره دَ زجراوَدا صفتونه اسباب دَ ظلماتو دی﴿يَسْتَحِبُّوْنَ﴾ کښ مبالغه ده په نسبت دَ یحبون یعنی دا لفظ دلالت کوی په ښکاره کولودَ محبت اودلالت کوی په ترجیح ورکولودنیا ته په اخرت باندے اودا معنے په یحبون کښ لازم نه وی۔﴿عِوَجًا﴾ مراد دَ دے نه شبهات اوشکونه دی اوتابع کول دَ دین دی دَ خپل عرض اوخواهش سره۔

[٤] په دے آیت کښ تاکید دَ دعوے دَ سورة دے یعنی لیږل دَ رسولانوپه ژبه دَ خپل قوم دَ پاره دَ تبلیغ دَ دے چه خلق دَ ظلماتونه رنړاکښ داخل شی۔

فائده: په دے آیت کښ دَ قوم ذکر دے دَ امت نه دے او زمونږ نبی(صلی الله علیه وسلم) هم رالیګلے شوے وؤپه لغت دَ خپل قوم سره اوقوم دَ هغه عرب وؤ۔ اګرچه امت ئے ټول دنیا ده انس اوجن ﴿فَيُضِلُّ﴾ پدیکښ اشاره ده چه دَ انبیاؤ علیهم السلام کاردعوت کول دی اواضلال اوهدایت دَ اللّٰه تعالیٰ په اختیارکښ دے ﴿الْعَزِيْزُ﴾ دَ یهدی سره اوالحکیم دَ یضل سره ښکاره تعلق لری۔

[٥] دا دلیل نقلی دے دَ موسیٰ علیه السلام نه دَ پاره دَ تاکید دَ دعوے دَ سورة اودَ اخراج دوه طریقے ذکرکړیدی یوآیت الٰهیه (تورات) اودویم تذکیربایام اللّٰه ﴿بِاَيّٰىمِ اللّٰهِ﴾ مراد دَ دے نه واقعات دی دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه په امتونوتیرشوو کښ اوداخل دے پدیکښ ذکرَ نعمتونواودَ عذابونودَ اللّٰه تعالیٰ اودا آیت دلیل دے په دے خبره چه وعظ کول جائزدی په داسے طریقه سره چه زړونه نرموی اویقین پیداکوی اوخالی وی دَهر بدعت نه اوپاك وی دَګمراهئ اودَشکونوپیداکولونه داسے په تفسیر قرطبی کښ هم ذکردی۔

فائده: میلاد النبی(صلی الله علیه وسلم) کوونکی اوعرس کؤنکی ذَكِّرْهُم بِاَيّٰىمِ اللّٰه، په دلیل کښ پیش کوی؟ جواب دا دے چه دا دلیل باطل دے ځکه چه پیغمبراواصحابواوسلف صالحینودَ دے آیت نه په دغه بدعاتوباندے دلیل نه دے پیش کړے اونه ئے دغه بدعات کړی دی اوقاعده دَ تفسیردا ده چه کوم تفسیردَ نبی(صلی الله علیه وسلم) او دَ صحابؤاودَ

لِقَوْمِهِ اذْكُرُوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ اِذْ اَنْجٰىكُمْ مِّنْ اٰلِ فِرْعَوْنَ يَسُوْمُوْنَكُمْ سُوْٓءَ الْعَذَابِ وَيُذَبِّحُوْنَ
اَبْنَآءَكُمْ وَيَسْتَحْيُوْنَ نِسَآءَكُمْ ؕ وَفِيْ ذٰلِكُمْ بَلَآءٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ عَظِيْمٌ ۝٦ وَاِذْ تَاَذَّنَ رَبُّكُمْ لَئِنْ شَكَرْتُمْ
لَاَزِيْدَنَّكُمْ وَلَئِنْ كَفَرْتُمْ اِنَّ عَذَابِيْ لَشَدِيْدٌ ۝٧ وَقَالَ مُوْسٰٓى اِنْ تَكْفُرُوْٓا اَنْتُمْ وَمَنْ فِي الْاَرْضِ
جَمِيْعًا ۙ فَاِنَّ اللّٰهَ لَغَنِيٌّ حَمِيْدٌ ۝٨ اَلَمْ يَاْتِكُمْ نَبَؤُا الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ قَوْمِ نُوْحٍ وَّعَادٍ وَّثَمُوْدَ ۛ
وَالَّذِيْنَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ ؕ لَا يَعْلَمُهُمْ اِلَّا اللّٰهُ ؕ جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ فَرَدُّوْٓا اَيْدِيَهُمْ فِيْٓ

خپل قوم ته یادکړئ احسان دَ اللّٰه تعالیٰ په تاسو باندے کله چه بچ ئے کړئ تاسو دَفرعونیانونه رَسول ئے تاسوته ناکاره عذابونه او حلالول ئے ځامن ستاسو او بے شرمئ لره ساتلے زنانه ستاسو اوپه دے کښ امتحان وو ستاسو دَرب دَطرف نه لوئے(٦) اوکله چه عام خبر درکړو رب ستاسو که تاسو شکر اوکړو نو زیات به درکړم اوکه تاسو ناشکری اوکړه یقینا عذاب زما ډیر سخت دے(٧)او اُوئیل موسیٰ(علیه السلام) که ناشکری اوکړه تاسو او هغه چاچه په زمکه کښ دی ټولو نو یقیناً اللّٰه تعالیٰ بے حاجته دے ستائیلے شوے دے(٨)آیا نه دے راغلے تاسوته خبر دَ هغه کسانوچه پخواووستاسونه قوم دَ نوح(علیه السلام) اوعادیان اوثمودیان اوهغه خلق چه روستو وودَ دوئ نه ـنه دی خبر په هغوئ سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه هیڅوك راوړی وو رسولانو هغوئ ته ښکاره دلیلونه پس اوکړځول دوئ لاسونه خپل په

سلفونه نقل نه وی نوهغه تحریف وی۔ اوبله خبره دا ده چه صرف دَ ولادت یا دَ وفات ورځ مناوول هیڅ فائده نه لری بلکه دَ هغه هدایت اوسیرت یا دول هروخت اوپه هغے باندے عمل کول سبب دَ نجات دے۔ ﴿صَبَّارٍ شَكُوْرٍ﴾ صیغے دَ مبالغے دَ دے دَپاره دی چه مراد دَ دے نه مؤمن دے ځکه چه کله کله صبراوشکر خو کافران هم کوی۔

[٦] پدے آیت کښ تذکیردَ عذابونواودَ نعمت دَنجات دے بنی اسرائیلوباندے په دے سورة کښ تفصیل دَحادثاتواودَ نعمتونومقصود دے دَ دے وجے نه ﴿وَيُذَبِّحُوْنَ﴾ ئے عطف کړو په یسومونکم باندے۔

[٧] شکرکول شامل دی توحید ته اواطاعت دَ رسول ته اوتبلیغ دَ دین ته او معنیٰ دَ شکرتفسیرقرطبی ذکرکړیده چه هغه اقراردَ نعمت دے دَپاره دَمنعم اوخرچ کول دَ نعمت دی صرف په طاعت دَ اللّٰه تعالیٰ کښ اوزیادت نه مراد زیاتول دَ نعمتونواودَ ثوابونواودُنیوی اُخروی ترقیے ورکول دی۔

فائده: غوره قول دا دے چه دا آیت هم داخل دے په تبلیغ دَ موسیٰ(علیه السلام) کښ اودا عطف دے په نعمت دَ اللّٰه باندے په آیت مخکنی کښ۔

[٨] په دے آیت کښ تخویف ورکول دی اوتاکید ورکول دی دَ تیرشوی آیت ﴿تَكْفُرُوْٓا﴾ دَ دے اصل جزاپته ده یعنی اللّٰه تعالیٰ ته ستاسوناشکری هیڅ نقصان نشی ورکولے او ﴿فَاِنَّ اللّٰهَ﴾ علت دے دَ دغه پتے جزادَپاره اوداسے په سورة زمر(٧) کښ هم دی۔

(٩) دَ دے آیت نه دویم باب شروع کیږی ترآیت (١٨) پورے دَدے په اول کښ لفظ دَ اَلَم دے دپاره دَ تذکیراوپه دیکښ واقعات دَ انبیاؤمخکنو دی دَخپلوقومونو سره په طریقه دَ مقابلے دَ نوراودَ ظلماتو والو

اَفْوَاهِهِمْ وَقَالُوْٓا اِنَّا كَفَرْنَا بِمَآ اُرْسِلْتُمْ بِهٖ وَاِنَّا لَفِيْ شَكٍّ مِّمَّا تَدْعُوْنَنَآ اِلَيْهِ مُرِيْبٍ ۝۹ قَالَتْ
رُسُلُهُمْ اَفِي اللّٰهِ شَكٌّ فَاطِرِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ يَدْعُوْكُمْ لِيَغْفِرَ لَكُمْ مِّنْ ذُنُوْبِكُمْ وَيُؤَخِّرَكُمْ اِلٰٓى
اَجَلٍ مُّسَمًّى ؕ قَالُوْٓا اِنْ اَنْتُمْ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا ؕ تُرِيْدُوْنَ اَنْ تَصُدُّوْنَا عَمَّا كَانَ يَعْبُدُ اٰبَآؤُنَا
فَاْتُوْنَا بِسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ۝۱۰ قَالَتْ لَهُمْ رُسُلُهُمْ اِنْ نَّحْنُ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَمُنُّ عَلٰى مَنْ

خولو دَ هغوئ کښ او دوئ اُوئيل يقيناً مونږ انکار کوؤ دَ هغے نه چه تاسو رالیګلے شوی ئے په هغے سره او يقيناً مونږ په شك کښ يو دَهغه مسئلونه چه تاسو مونږ هغے ته بلئ پوخ شك(۹) اُوئيل رسولانو دَ دوئ آيا دَ اللّٰه په توحيد کښ شك دے چه اول پيدا کوونکے دَ آسمانونو اودَ زمکے د ے بلی تاسو (داسے مسئلے ته) چه اوبه بخی تاسوته (په سبب دَهغے) ګناهونه ستاسو او روستوبه اورسوی تاسو (په مزوسره) نيتے مقررے ته دوئ اُوئيل نه ئے تاسو مګر بشرئے زمونږ په شان غواړئ تاسو چه واړوئ مونږه دَهغه طريقے نه چه بندګی پرے کوله مشرانو زمونږ پس راوړئ مونږ ته معجزه ښکاره (۱۰) اُوئيل دوئ ته رسولانو دَ دوئ مونږنه يو مګر بشريوستاسو پشان ليکن اللّٰه تعالیٰ احسان کوی په هغه چا

يعنی رسولانوپه تبليغ سره ويستل قوم لره دَ ظلماتونه نور ته او قوم دَ هغوی تکذيب اومخالفت کوو او رسولان ئے اوښکل دَ خپلوکلونه اوذکرکړيدے بيان دَ رسولانو اوتوکل دَهغوی اوصبردَهغوی يا هلاکت دَمنکرينودا مضمون دے دَ آيت (۹) نه ترآيت(۱٤) پورے۔ يا تخويف اُخروی دے په درے آياتونو کښ اوبيا مثال ذکرکوی دَپاره دَ بربادئے دَعمل دَ مشرك په آيت (۱۸) کښ۔

[۹] دے آيت کښ ذکردے دَتيرشووقومونوچه هغوی مقابله کړيوه دَ رسولانوپه درے طريقوسره۔ اول ﴿فَرَدُّوْٓا اَيْدِيَهُمْ﴾ پديکښے درے تفسيره دی۔ اول داچه کيخودومنکرينولاسونه خپل په خپلوخلوباندے دَ پاره دَ دے چه چك اولګوی په هغے باندے دَ وجے دَ غصے نه اودويم کيخودل دوی لاسونه خپل دَپيغمبرانوپه خلوباندے دپاره دَ دے چه هغوی چپ شی اودريم داچه داکنايه ده دَمنع کولودَ پيغمبرانودَ دعوت کولونه۔ دويمه طريقه دَ مقابلے داده ﴿وَقَالُوْٓا اِنَّا كَفَرْنَا بِمَآ اُرْسِلْتُمْ بِهٖ﴾ اودريمه طريقه دا ده چه ﴿وَاِنَّا لَفِيْ شَكٍّ﴾ او مراد دَ دے دا دے چه مونږګمان کوؤپه تاسوچه تاسو بادشاهی اودنيا غواړئی پدے دعوت سره ﴿لَا يَعْلَمُهُمْ اِلَّا اللّٰهُ﴾ دا ښکاره دليل دے په نفی دَعلم غيب اوعلم کلی دَ رسولانونه اودَ ټولو بندګانونه اوابن کثير نقل کړيدی چه دَ دے آيت نه معلومه شوه چه دَ نبی ﷺ نسب نامه تر آدم عليه السلام پورے په صحيح دليل سره ثابت ده اودَ دے نه بره ثبوت نيشته۔

[۱۰] پديکښ اول جواب ورکول دی دَ رسولانوقومونوته ﴿اَفِي اللّٰهِ شَكٌّ﴾ مراد دَ دے نه شك کول په توحيدکښ دی ځکه چه دَ وجود دَ اللّٰه تعالیٰ نه دوی انکارنه دے کړے اودا استفهام په طريقه دَ انکاراودَتعجب سره دے اوبيا په ذکرکولودَ دوه فائدودَ دعوت توحيد ته يومغفرت اودويم مهلت اوبيا ذکردَ مخالفت دَ قومونودے دَ رسولانوپه دريوطريقوسره اوله طريقه دا ده چه تاسو زمونږ پشان بشرئے اوبشرنبی نشی کيدے او دويمه طريقه دا ده چه تاسو مونږلره دَ مشرانودَ لارے نه منع کوئے چه هغه شرکی تقليد دے۔ اودريمه طريقه دا ده چه دوی معجزے طلب کولے دَ انبياؤ نه اوګمان به ئے کووچه معجزے دَ

يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ ؕ وَمَا كَانَ لَنَآ اَنْ نَّاْتِيَكُمْ بِسُلْطٰنٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ⑪
وَمَا لَنَآ اَلَّا نَتَوَكَّلَ عَلَى اللّٰهِ وَقَدْ هَدٰىنَا سُبُلَنَا ؕ وَلَنَصْبِرَنَّ عَلٰى مَآ اٰذَيْتُمُوْنَا ؕ وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ
الْمُتَوَكِّلُوْنَ ⑫ ع وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِرُسُلِهِمْ لَنُخْرِجَنَّكُمْ مِّنْ اَرْضِنَآ اَوْ لَتَعُوْدُنَّ فِيْ مِلَّتِنَا ؕ فَاَوْحٰٓى
اِلَيْهِمْ رَبُّهُمْ لَنُهْلِكَنَّ الظّٰلِمِيْنَ ⑬ وَلَنُسْكِنَنَّكُمُ الْاَرْضَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ ؕ ذٰلِكَ لِمَنْ خَافَ مَقَامِيْ

چه اوغواړی دَبندګانو خپلونه اونیشته وس مونږ لره چه راوړو تاسوته معجزه سیوا دَ اذن دَ اللّٰه تعالیٰ نه اوخاص په اللّٰه تعالیٰ دے توکل کوی مؤمنان(۱۱) اوخه عذربه وی زمونږ چه توکل نه کوو په اللّٰه تعالیٰ باندے اوحال داچه مونږ ته ئے زمونږ لارے خودلے دی اوخامخا صبر به کؤو مونږ په هغه تکلیفونو چه مونږ ته ئے رسوئ اوخاص په اللّٰه دِ توکل کوی توکل کوونکی (۱۲) او اُوئیل کافرانو خپلو رسولانو ته خامخا اوباسو تاسو لره دَ خپل ملك نه یابه راوګرزئ زمونږ دین ته پس وحی اوکړه دوئ ته رب دَ دوئ خامخا هلاك به کړو مونږ ظالمانولره(۱۳) او خامخا به اوسؤو تاسو په زمکه کښ روستو دَهغوئ نه داوعده د ه هغه چاسره چه ویریږی دَ پیشئ زمانه

انبیاؤپه اختیارکښ دی ﴿قَالُوْٓا اِنْ اَنْتُمْ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا﴾ دادلیل دے چه هره زمانه کښ دَمنکرینودا عقیده وه چه دَ بشریت اودَ رسالت په مینځ کښ منافات دے یعنی بشر رسول نه شی کیدلے نورسول بشرنشی کیدے۔

[۱۱] پدیکښ ذکرکړی دی جوابونه دَ انبیاؤخپلوقومونوته دا دَ هغوی دَ اول اودَ دریم اعتراض جواب دے دَ اول جواب خلاصه دا ده چه دَبشریت اودَ رسالت(چه احسان دَ اللّٰه تعالیٰ دے) منافات نیشته اودَ دریم جواب مقصد دا دے چه په معجزاتو کښ دَ پیغمبرانواختیاراوقدرت نه وی۔ اودریم اعتراض دَ جواب حاجت نه لری ځکه چه انبیاؤپه حقیقت کښ دَګمراهو مشرانو دَلارے نه منع کوله اوپه آخرے جمله کښ تعلیم دے مؤمنانوته دَ توکل په وخت دَ مقابلے دَ دُشمنانو کښ او داسے په سورة العمران (۱۶۰) کښ هم دی۔

[۱۲] په دے آیت کښ ذکردَ توکل اودَ صبردَ انبیاؤ دے اوذریعه دَ نجات اودَکامیابئے ده اودا جواب دَ سوال دَمشرکانو دے چه هغوی اُوئیل چه زمونږپه معبودانوباندے ولے توکل نه کوئے نودَ هغوی جواب ئے اوکړواودارنګ په دے جمله کښ علت دے دَ مخکښے جملے چه وعلی اللّٰه فلیتوکل المؤمنون﴿وَقَدْ هَدٰىنَا﴾مراد دا دے چه لارے دَکامیابئے دنیوی او اُخروی اللّٰه تعالیٰ خودلے دی نوتوکل هم په هغه پورے خاص دے ځکه چه توکل کښ معنی دَیقین ده اوپه هدایت سره یقین حاصلیږی ﴿وَلَنَصْبِرَنَّ عَلٰى مَآ اٰذَيْتُمُوْنَا﴾ داخطاب دے مشرکانوته اشاره ده چه مشرکانوهمیشه مؤحدینوته اذی ورکوله ﴿فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُتَوَكِّلُوْنَ﴾ مؤمن چه هرکله په اللّٰه تعالیٰ باندے خاص توکل اوکړی نودَ هغه صفت متوکل جوړشی دَ دے وجے نه ئے اول آیت کښ مؤمنون اوپه دویم کښ متوکلون ذکرکړو۔

[۱۳] پدے آیت کښ ذکردَ دباؤکولودَکافرانودے په رسولانوباندے چه زمونږنه به واپس کیږئے یا به زمونږدَ ملك نه اوځئے لکه چه سورة اعراف (۸۸)کښ دی اومعنیٰ دَ عود په تفسیردَ سورة اعراف کښ ذکرشویده۔ اوبیا تسلی ورکول دی دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه پیغمبرانوته په هلاکولو دَ ظالمانوسره۔

وَخَافَ وَعِيْدِ ﴿۱۴﴾ وَاسْتَفْتَحُوْا وَخَابَ كُلُّ جَبَّارٍ عَنِيْدٍ ﴿۱۵﴾ مِّنْ وَّرَآئِهٖ جَهَنَّمُ وَيُسْقٰى مِنْ مَّآءٍ
صَدِيْدٍ ﴿۱۶﴾ يَّتَجَرَّعُهٗ وَلَا يَكَادُ يُسِيْغُهٗ وَيَاْتِيْهِ الْمَوْتُ مِنْ كُلِّ مَكَانٍ وَّمَا هُوَ بِمَيِّتٍ ط وَمِنْ
وَّرَآئِهٖ عَذَابٌ غَلِيْظٌ ﴿۱۷﴾ مَثَلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ اَعْمَالُهُمْ كَرَمَادِ نِ اشْتَدَّتْ بِهِ الرِّيْحُ فِيْ
يَوْمٍ عَاصِفٍ ط لَا يَقْدِرُوْنَ مِمَّا كَسَبُوْا عَلٰى شَيْءٍ ط ذٰلِكَ هُوَ الضَّلٰلُ الْبَعِيْدُ ﴿۱۸﴾ اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ خَلَقَ

او ویریږی دَ عذاب زمانه (۱۴) او هغوی فیصله اوغوختله اونا امیده شو هرسرکش ضدی(۱۵) چه دَ هغه مخے ته دوزخ دے اوڅښکولے کیږی په دهٔ باندے دَ اوبونه چه وینے زوے دی (۱۶) چه ګوټ ګوټ به ئے څښکی اونه به ئے شی په آسانه تیرولے او راځی به په دهٔ باندے اسباب دَمرګ دَهرے غارے نه خونه به مړ کیږی او دَ دهٔ مخے ته عذاب دے سخت(۱۷)مثال دَ هغه کسانو چه کفرئے کړیدے په رب خپل باندے دَ دوئ عملونه په شان دَ ایرے دی چه سخته اوچلیږی په هغے باندے سیلئ په داسے ورځ کښ چه تیزے سیلئ والاوی څه وس به ئے نه رسی دَ کړی عملونونه په هیڅ ثواب باندے داخو ګمراهی ډیره لرے ده (دَ حدنه)(۱۸) آیانه ګورئ چه یقیناً اللّٰه تعالیٰ پیدا کړی دی

[۱۴] پدیکښ تسلّی دویمه ده انبیاؤته خصوصاً اونوروحق پرستوته عموماً اودَ دے مثال په سورة بنی اسرائیل(۱۰۳،۱۰۴) کښ راځی﴿ذٰلِكَ لِمَنْ خَافَ﴾ په دیکښ دَ دے وعدے دَ عموم ذکردے دَ هرمؤحد سره ﴿مَقَامِيْ﴾ په معنیٰ دَ مصدردے او اضافت فاعل ته دے نومراد ترینه قیام دَ اللّٰه تعالیٰ په طریقه دَ علم اوقدرت سره دے لکه په سورة رعد (۳۳)کښ دی نودَ خاف نه مراد یقین او علم دے یا اضافت دے مفعول ته یعنی قیام دَ بنده دَ اللّٰه تعالیٰ په مخکښ په ورځ دَ قیامت لکه په سورة مطففین (۶) کښ دی۔ اوخوف پخپله معنیٰ دے۔

[۱۵] پدیکښ تخویف دے منکرینوته ﴿وَاسْتَفْتَحُوْا﴾ یعنی انبیاؤمدد طلب کړودَ اللّٰه تعالیٰ نه یا دا چه فیصله طلب کړه کافرانودَ اللّٰه تعالیٰ نه لکه په سورة انفال (۱۹)کښ دی ﴿جَبَّارٍ﴾ هغه چاته وائي چه په ځان باندے دَ هیڅا حق نه منی او ﴿عَنِيْدٍ﴾ هغه چاته وائي چه ډډه کوی دَ حق نه دَ ضد په وجه سره۔ ﴿وَخَابَ﴾ دا اشاره ده نتیجے دَ واستفتحوا ته۔

[۱۶،۱۷] پدے دواړوآیتونوکښ تفصیلی تخویف اُخروی دے منکرینوته په شپږطریقوسره﴿مِنْ وَّرَآئِهٖ﴾ دا لفظ دَ اضدادونه دے یعنی روستو او مخے دواړو ته وئیلے شی دلته مخه مراد ده یعنی په عذاب دَ دُنیا او قبر پسے عذاب دَ اخرت دے ﴿يَتَجَرَّعُهٗ﴾ دا دَ وجے دَ ډیرګرموالی او دَ ډیرے بد بویئی دَ وجے نه ﴿وَيَاْتِيْهِ الْمَوْتُ﴾ مراد دَ دے نه اسباب دَ مرګ دی چه هغه مختلف عذابونه دی دَ هر طرف نه اویا مراد دَ موت نه غم اوحزن دے۔ دارنګ په سورة فاطر (۳۶)کښ هم دی۔

فائده: په دے کښ دلیل دے په دے خبره چه جهنم والا به نه فناکیږی ﴿وَمِنْ وَّرَآئِهٖ عَذَابٌ غَلِيْظٌ﴾ یعنی دا دَ ځښکلوعذاب دے اودَ دے نه علاوه دَ طعام ضریع اوغسلین او زقوم او اُورعذابونه دی۔

[۱۸] هرکله چه تیرشوی ایت کښ ذکرشوعذاب دَ کافرانونواعتراض اوکړے شو چه دَهغوی نیك اعمال شته دے نودے آیت کښ اشاره ده جواب ته په مثال ذکرکولوسره دَ پاره دَ بربادئ دَ هغه عملونو

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ ؕ اِنْ يَّشَاْ يُذْهِبْكُمْ وَيَاْتِ بِخَلْقٍ جَدِيْدٍ ﴿۱۹﴾ وَّمَا ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ بِعَزِيْزٍ ﴿۲۰﴾
وَبَرَزُوْا لِلّٰهِ جَمِيْعًا فَقَالَ الضُّعَفٰٓؤُا لِلَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْٓا اِنَّا كُنَّا لَكُمْ تَبَعًا فَهَلْ اَنْتُمْ مُّغْنُوْنَ عَنَّا
مِنْ عَذَابِ اللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ ؕ قَالُوْا لَوْ هَدٰىنَا اللّٰهُ لَهَدَيْنٰكُمْ ؕ سَوَآءٌ عَلَيْنَآ اَجَزِعْنَآ اَمْ صَبَرْنَا مَا
لَنَا مِنْ مَّحِيْصٍ ﴿۲۱﴾ ع وَقَالَ الشَّيْطٰنُ لَمَّا قُضِيَ الْاَمْرُ اِنَّ اللّٰهَ وَعَدَكُمْ وَعْدَ الْحَقِّ وَوَعَدْتُّكُمْ

آسمانونه او زمکه دپاره دَ حق (بښکاره کولو) که اوغواړی نوفنا به کړی تاسو او رابه ولی نوی خلق (۱۹) او داکار په اللّٰه تعالیٰ باندے ګران نه دے (۲۰) او میدان ته به شی اللّٰه تعالیٰ ته ټول پس وائی به کمزوری کسان هغه چاته چه لوئی ئے کوله یقیناً مونږستاسو تابع وو پس ایا تاسو لرے کولے شئ زمونږ نه دَ عذاب دَ اللّٰه تعالیٰ نه څه شے دوئ به اُوائی که چرے مونږ ته اللّٰه تعالیٰ هدایت کړے وے نومونږ به تاسوته هدایت کړیوے برابر دے حال زمونږ که فریادونه کؤو اوکه صبر کؤو نیشته مونږ لره ځائے دَ تښتیدلو(۲۱) او شیطان به اُوائی هرکله چه فیصله اوشی دَ ټولے خبرے یقیناً اللّٰه تعالیٰ تاسو سره وعده کړے وه وعده حقه اوما چه وعده کړے وه تاسو سره

حاصل دَ مثال دا دے۔ لکه څنګه چه ډیرئ دَ اِیرے باندے تیزه سیلئی راشی اوټوله روځ دا سیلئ اوچلیږی نودا ایره والوځی اوهیڅ پاتے نه شی نودارنګ اعمال دَ مشرکانو چه په هغی سخت حساب اوکړے شی په ورځ دَ حساب کښے نوهغه عملونه به بیکاره معلوم شی دَ وجے دَ کفراودَشرك کولونه اومثال ئے دَ﴿كَرَمَادِ﴾ سره په دے وجه ذکرکړوچه دَ رَمَاد نه هیڅ فائده نه اخستلے کیږی نودارنګ عملونه دَ مشرك بے فائدے دی۔ اودارنګ ﴿رَمَاد﴾ پیداکیږی پس دَ سوزیدلودَ لرګونه نودَعملونوکولونه به روستو او سوزیږی نومراد دَاَعمَالُهُم نه هغه عملونه دی چه په ظاهرکښی نیك وو﴿لَايَقْدِرُوْنَ﴾ ضمیر راجع دے کافرانوته یا راجع دے اصحاب الرماد ته لیکن اول قول غوره دے۔

[۲۰،۱۹] دَ دے آیت نه دریم باب دے تر(۲۳) آیت پورے اودا هم شروع دے په لفظ دَ الم سره پدے باب کښے عقلی دلیلونه دی مختصرپه (۲۰،۱۹)کښی بیا تذکیردے په واقعاتو اُخروی سره چه هغه برائة دَ معبودان باطله اودَشیطان دے دَ خپل عبادت کوونکونه په (۲۲،۲۱)کښی اوبشارت دے په (۲۳)کښے۔ په آیت (۲۰،۱۹)کښی بیان دے دَ خالقیت دَ اللّٰه تعالیٰ اودَ قدرت کامله دَ هغه ربط دَ دے دَ محکښی سره دا دے لکه چه په مثال سره معلومه شوه چه اعمال دَ شرك برباد دی نودارنګ په عقلی دلیل سره هم دَ دے بربادی معلومه ده او﴿بِالْحَقِّ﴾ نه مراد بښکاره کول دَ توحید دَ اللّٰه تعالیٰ دی نومعلومه شوه چه حکمت دَ خلق دَ اللّٰه تعالیٰ ذات دَ نبیﷺ نه دے لکه څنګه چه نقل شویدی په حدیث دَ لولاك کښی ځکه چه دغه حدیث دَ محدیثینوپه نیزموضوعی دے اودَ دے آیت نه هم خلاف دے اوپه آخرد آیت کښی ذکردَ قدرت دَاللّٰه تعالیٰ دے اوتخویف هم دے۔

[۲۱] دا دَ محکښی په مضمون باندے عطف دے یعنی واستَفتَحُوا فاهلکو وبعثوا للحساب برزوا یعنی دوی فیصله اوغوختله نوهلاك کړے شول نوپورته به شی دَ پاره دَ حساب اوبښکاره به شی اوماضی په معنٰی دَمستقبل ده۔ په دے آیت کښی تخویف اُخروی دے په ذکردَ برائة دَمشرانوباطل پرستودَ خپلو

فَاَخْلَفْتُكُمْ ؕ وَمَا كَانَ لِيَ عَلَيْكُمْ مِّنْ سُلْطٰنٍ اِلَّاۤ اَنْ دَعَوْتُكُمْ فَاسْتَجَبْتُمْ لِيْ ۚ فَلَا تَلُوْمُوْنِيْ وَلُوْمُوْۤا
اَنْفُسَكُمْ ؕ مَاۤ اَنَا بِمُصْرِخِكُمْ وَمَاۤ اَنْتُمْ بِمُصْرِخِيَّ ؕ اِنِّيْ كَفَرْتُ بِمَاۤ اَشْرَكْتُمُوْنِ مِنْ قَبْلُ ؕ اِنَّ الظّٰلِمِيْنَ
لَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۲۲﴾ وَاُدْخِلَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ
فِيْهَا بِاِذْنِ رَبِّهِمْ ؕ تَحِيَّتُهُمْ فِيْهَا سَلٰمٌ ﴿۲۳﴾ اَلَمْ تَرَ كَيْفَ ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا كَلِمَةً طَيِّبَةً كَشَجَرَةٍ

نوما دروغ وئیلی وو تاسوته (خلاف مے اوکړو) اونه وو مالره پتاسو باندے هیڅ زور (دلیل) سیوا دَ دے نه چه ماتاسوته بلنه اوکړه نوتاسو زماخبره قبوله کړه پس مالره مه ملامته کوئ او ملامته کړئ ځانونه خپل ځه ستاسو هیڅ فریاد رسی نه شم کولے اونه تاسو زمافریاد رسی کولے شئ یقیناً ما انکار اوکړو دَهغے نه چه تاسو مالره دَ اللّٰه تعالیٰ سره شریك کړیوو پخوا یقیناً ظالمانو لره عذاب درد ناك دے(۲۲) اوداخل به کړے شی هغه ځوك چه ایمان ئے راوړیدے او عملونه ئے کړی دی په طریقه دَنبی جنتونوته چه بهیږی لاندے دَهغے نه ولے همیشه به وی په هغے کښ په حکم دَرب خپل هرکلے دَ دوئ به په هغے کښ سلام وی (۲۳) آیا نه ګورئ چه څنګه بیان کړیدے اللّٰه تعالیٰ مثال دَ کلمے پاکے پشان دَ اونے

تابعدارونه اوبیان دَ عجز دَ هغوی دے دَ دفع کولودَ عذاب نه ﴿الضُّعَفٰٓؤُا﴾ نه مراد هغه جاهلان دی چه په عقل اوپه علم کښ کمزوری وواو ړوند تقلید دَمشرانوئیے کوؤ ﴿لِلَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْٓا﴾ دَ دے نه مراد هغه علماء اوپیران اواقتدار والا دی چه دَ حق دین سره ئیے ضد اوعناد کوؤ۔اوکفر اوشرك اوبدعات ئے خپل دین جوړ کړے وو۔ استَکبَرُوا یعنی لوئي ئے کړے وه دَ توحید دَ اللّٰه تعالیٰ اودَ اتباع دَ رسول نه ﴿مُغْنُوْنَ عَنَّا مِنْ عَذَابِ﴾ یعنی تاسو به مونږسره دعوے دَ جنت کولے اوس خوصرف مونږدَ عذاب نه بچ کړئے اوداسے په سورة مؤمن (٤٧،٤٨)کښ هم دی اوپه دے سورة کښ دا مکالمه دَ میدان حشرده دَ دے وجے نه دَ دوی جواب ﴿لَوْ هَدٰىنَا اللّٰهُ﴾ سره دے اودَ سورة مؤمن مکالمه په اوردَ جهنم کښ ده نوهلته جواب په اناکل فیها سره دے۔

[۲۲] هرکله چه تیرشوی آیت کښ حال دَ انسی شیطانانوذکرشونوپه دے آیت کښ حل دَ جنی شیطان ذکرکوی چه ابلیس دے په پنځوطریقوسره ۔ اوله طریقه ﴿اِنَّ اللّٰهَ وَعَدَكُمْ﴾ مراد دا دے چه اللّٰه تاسوته حق دین رالیږلے ووپه دلیلونوسره او ماتاسوته دروغ وئیلی وو، دویمه طریقه ﴿وَمَا كَانَ لِيَ عَلَيْكُمْ﴾ مراد سلطان نه دلیل دے یعنی تاسوزما خبره بے دلیله منلے وه یا مراد سلطان نه زوردے یعنی ما په تاسوځهٔ زورنهٔ ووکړے۔ دریمه طریقه دا ده چه ﴿فَلَا تَلُوْمُوْنِيْ﴾ الیٰ اخره۔ ځکه چه تاسو دَدلیلونوتابعداری پرخودلے وه اوخلورمه ﴿مَآ اَنَا بِمُصْرِخِكُمْ الیٰ آخره﴾ اوپنځمه طریقه﴿اِنِّيْ كَفَرْتُ﴾ اودَ دے مطلب دا دے چه ځه انکارکؤم دَ هغے نه چه تاسوځه دَ اللّٰه تعالیٰ سره په طاعت کښ شریك کړے ووم بل دا مطلب دے چه زما دَکفر سبب دا دے چه تاسو ځهٔ دَ اللّٰه سره شریك کړے یم۔

[۲۳] په دے آیت کښے بشارت دے مؤمنانوته او﴿بِاِذْنِ رَبِّهِمْ﴾کښ اشاره ده چه جنت حاصلول په مشیت دَ اللّٰه تعالیٰ سره دی نه په عمل سره ﴿تَحِيَّتُهُمْ فِيْهَا﴾ کلمه دَ پیشکشئے سلام دے دَ طرف دَ اللّٰه تعالیٰ اوملائکونه۔

مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ سِرًّا وَّعَلَانِيَةً مِّنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَ يَوْمٌ لَّا بَيْعٌ فِيْهِ وَلَا خِلٰلٌ ﴿۳۱﴾ اَللّٰهُ الَّذِيْ خَلَقَ
السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَاَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَخْرَجَ بِهٖ مِنَ الثَّمَرٰتِ رِزْقًا لَّكُمْ ۚ وَسَخَّرَ لَكُمُ الْفُلْكَ
لِتَجْرِيَ فِي الْبَحْرِ بِاَمْرِهٖ ۚ وَسَخَّرَ لَكُمُ الْاَنْهٰرَ ﴿۳۲﴾ وَسَخَّرَ لَكُمُ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ دَآئِبَيْنِ ۚ وَسَخَّرَ لَكُمُ
الَّيْلَ وَالنَّهَارَ ﴿۳۳﴾ وَاٰتٰىكُمْ مِّنْ كُلِّ مَا سَاَلْتُمُوْهُ ۭ وَاِنْ تَعُدُّوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ لَا تُحْصُوْهَا ۭ اِنَّ الْاِنْسَانَ
لَظَلُوْمٌ كَفَّارٌ ﴿۳۴﴾ وَاِذْ قَالَ اِبْرٰهِيْمُ رَبِّ اجْعَلْ هٰذَا الْبَلَدَ اٰمِنًا وَّاجْنُبْنِيْ وَبَنِيَّ اَنْ نَّعْبُدَ الْاَصْنَامَ ﴿۳۵﴾

ع ۵ ۱۴

دَهغه ځیز چه مونږ دویته ورکړیدے پټ او ښکاره مخکښ دَ دے نه چه رابه شی ورځ چه نه به وی خرڅول په هغے کښ اونه به وی دوستانه(۳۱) اللّٰه تعالیٰ هغه ذات دے چه پیدا کړی دی آسمانونه اوزمکه او راورولی ئے دی دَ بره طرف نه اوبه پس راویستلی د ی په هغے سره ډیرے میوے دپاره دَفائدے ستاسو اوتابع کړیدی پخپل حکم سره ستاسو دپاره کشتئ چه چلیږی په دریاب کښ په حکم دَهغه سره اوتابع کړی دی دَحکم خپل تاسو لره سیندونه(۳۲) او تابع کړی دی دَ حکم خپل تاسولره نمراو سپوږمئی چه همیشه روان دی اوتابع کړیدی دَ حکم خپل ستاسو دپاره شپه او ورځ(۳۳) او درکړی دی تاسوته دَهرهغه ځیزنه چه تاسو ورته حاجت لرئ اوکه تاسو شماره شروع کړئ دَ نعمتونو دَ اللّٰه تعالیٰ نو سرته ئے نه شئ رسولے یقیناً انسان خامخا ډیر ظلم کوونکے ډیر ناشکره دے(۳۴) اوکله چه اُوئیل ابراهیم(علیه السلام) اے ربه اوکړځوه دابښار امن والا اوپه ډډه ساتے ما اوځامن زما دَبندګئ دَغیراللّٰه نه(۳۵)

[۳۱] په دے ایت کښ ذکردے دَ هغے اعمالو چه دفع کوی عذاب لره په مقابله دَ هغه صفاتودَ مشرکانوکښ چه مخکښ ایتونوکښ ذکر شول اوهغه سبب دَ عذاب وؤ ﴿يُقِيْمُوا الصَّلٰوةَ﴾ په دے کښ لام مقدردے اودا مقوله ده دپاره دَ قُلْ ﴿سِرًّا وَّعَلَانِيَةً﴾ کله پټ اوکله ښکاره دَ حال مناسب دواړه جائز دی ﴿لَا بَيْعٌ فِيْهِ وَلَا خِلٰلٌ﴾ داسے په سورة بقره (۲۵٤) کښ هم دی اومراد دا دے چه نورځیزونه په هغه ورځ فائده نه ورکوی ما سیوادَ دغه عملونونه اوهغے ته تقویٰ وئیلے شی نودوستانه دَ وجے دَ تقویٰ نه فائده ورکوی په دلیل دَ سورة زخرف (٦٧) سره۔

[۳۲] پدیکښ دلیل عقلی دے دَ پاره دَ تذکیردَ توحید په پنځه صفاتوفعلیودَ اللّٰه تعالیٰ سره ﴿وَسَخَّرَ لَكُمُ الْاَنْهٰرَ﴾ هرکله چه په اوبودَ بحرسره دَ فصل اوبه کول یا پخپله دَ ځښکلو فائده نیشته نودَ هغے په باره کښ تسخیردَ فلك ئے ذکرکړواوپه نورو سیندونواوخوړونوکښ دَ اوبو ډیرے فائدے دی نودَ هغے په باره کښ تسخیرانهارئیے ذکرکړواو﴿بِاَمْرِهٖ﴾ کښ اشاره ده چه فائدے اخستل دَ کشتواونهرونونه موقوف دی په امر دَ اللّٰه تعالیٰ باندے۔

[۳۳] داهم دلیل عقلی دے دَ پاره دَ تذکیردَتوحید په ذکردَتسخیر په ځلوروځیزونو۔ په تیرشوی ایت کښ اصول دَ نعمتونو ذکرکړیدی اومکانیات ئے ذکرکړیدی اوپه دے ایت کښ زمانیات ذکرکوی۔ ﴿دَآئِبَيْنِ﴾ په دے کښ معنیٰ ده دَ همیش والی سره دَ دے چه حال اوعادت نه بدلوی۔

[۳٤] په دے کښ هم دلیل عقلی دے دپاره دَ تذکیراوپه اخرکښ زجردے هغه انسان ته چه بدلوی

رَبِّ اِنَّهُنَّ اَضْلَلْنَ كَثِيْرًا مِّنَ النَّاسِ ۚ فَمَنْ تَبِعَنِيْ فَاِنَّهٗ مِنِّيْ ۚ وَمَنْ عَصَانِيْ فَاِنَّكَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۳۶﴾
رَبَّنَآ اِنِّيْٓ اَسْكَنْتُ مِنْ ذُرِّيَّتِيْ بِوَادٍ غَيْرِ ذِيْ زَرْعٍ عِنْدَ بَيْتِكَ الْمُحَرَّمِ ۙ رَبَّنَا لِيُقِيْمُوا الصَّلٰوةَ فَاجْعَلْ
اَفْئِدَةً مِّنَ النَّاسِ تَهْوِيْٓ اِلَيْهِمْ وَارْزُقْهُمْ مِّنَ الثَّمَرٰتِ لَعَلَّهُمْ يَشْكُرُوْنَ ﴿۳۷﴾ رَبَّنَآ اِنَّكَ تَعْلَمُ مَا

اے ربه یقیناً (بندګئ) دَ دوئ بے لارے کړی دی ډیرو خلقو لره پس چاچه تابعداری او کړه زما پس یقیناً هغه زما دَ ډلے دے اوچاچه نافرمانی او کړه زما پس یقیناً ته بخنه کوونکے رحم کوونکے ئے (۳۶) اے ربه زمونږ یقیناً ما آباد کړی دی بعضے دَ اولاد خپل نه په کنده بے فصله (شاړه) کښ ستا دَکور عزتمندپه خواکښ اے ربه زمونږ دَ دے دپاره چه پابندی او کړی (جاری کړی) مونځ پس او ګرځوه زړونه دَبعضے خلقو چه مائل شی دَ دوئ طرف ته اوروزی ورکړے دوئ لره دَقسما قسم غلونه دَ دے دپاره چه ستا شکر او کړی (۳۷) اے ربه زمونږ یقیناً ته پوهیږے په هغه څیز

نعمتونه دَ اللّٰه تعالیٰ په کفر یعنی الإنسان کښ الف لام عهدی دی هرانسان مراد نه دے ﴿مَاسَاَلْتُمُوْهُ﴾ مراد دَ سوال نه په دے ځائے کښ احتیاج دے که سوال په ژبه وی اوکه نه وی اوداسے په سورة رحمٰن (۲۹) کښ ذکردی۔

[۳۵] دا دلیل نقلی دے دَ ابراهیم علیه السلام نه دَ پاره دَ تذکیرحاصل دا دے چه ابراهیم علیه السلام دَ اللّٰه تعالیٰ دَ نعمتونوشکرکړے ووپه طریقه دَ اجتناب دَ هرقسم شرك نه اوپه طریقه دَ اوسَولو دَ بعضِ اهل په مرکز دَ توحیدکښ دَ پاره دَ نشرِدَ توحید اودا دَ دعوے دَ سورة سره هم متعلق دے یعنی ابراهیم علیه السلام دَ ظلماتونه دَ ویستلودَ پاره امن دَ ښاراودَ شرك نه بچ کیدل اوپه مکه کښ اهل او سَوَل اودَ بچوډپاره دعا غوختل دا ټول کارونه کړی وؤ﴿اٰمِنًا﴾ دَ امن معنیٰ دا ده چه څوك به ئے نږولے نه شی ترنزدے دَ قیامت پورے اوپه قریب دَ قیامت کښ به ورانیږی یامراد دا دے چه اهل دَ دے به په امن کښ وی ﴿وَاجْنُبْنِيْ وَبَنِيَّ﴾ مراد په بنی سره صلبی اولاد دے اوکوم چه په وخت دَ دے دعاکښ موجود وؤټول اولاد ترقیامته مراد نه دی ځکه چه روستودَ ده په اولادکښ ډیرمشرکان پیداشویدی۔په دے ایت کښ ذکردُعا دَ ابراهیم علیه السلام دے په باره دَ بچ کیدلودَ شرك کښ ﴿الْاَصْنَامَ﴾ جمع دَصنم ده اودَ صنم درے معنے دی اوله معنیٰ هغه جوسه چه جوړه کړے شی دَ لرګی یا دَګټے وغیره نه اوعبادت ئے کیدے شی۔ دویمه معنیٰ دا ده هر هغه شے چه بندګی کیدے شی سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه ټولومعبودانوباطلو ته شامل دے که ژوندی وی اوکه مړه وی او دریمه معنیٰ چه مشغوله کوی انسان لره دَ اللّٰه تعالیٰ نه اودا معنے ذکرشوی دی په مفردات دَ امام راغب کښ (ص ۵۰۴) اوپه دے ایت کښ مراد اخری معنیٰ ده چه مناسب ده دَ شان دَ ابراهیم علیه السلام سره۔

[۳۶] په دے ایت کښ نسبت دَ ګمراه کولواصنامو ته په طریقه دَ سببیّت سره دے یعنی بندګی دَ اصنامو سبب دَ ګمراهئی دَ خلقووی ﴿وَمَنْ عَصَانِيْ﴾ مراد دَ دے نه عصیان دے بغیرِدَ شرك نه ځکه چه مشرك نه بخښلے کیږے۔

[۳۷] په دے آیت کښ ذکرِدَ ابتلاء دَ ابراهیم علیه السلام دے په اوسولودَ اسمٰعیل علیه السلام اودَ موردَ هغه په شاړځائے کښ دَپاره دَ اقامت دَ صلوت اومراد دَ دینه اقامت دَدین توحید دے﴿مِنَ النَّاسِ﴾ مِن بعضیه دے دَ دے وجے

نُخْفِيْ وَمَا نُعْلِنُ ؕ وَمَا يَخْفٰى عَلَى اللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ فِي الْاَرْضِ وَلَا فِي السَّمَآءِ ﴿۳۸﴾ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ
وَهَبَ لِيْ عَلَى الْكِبَرِ اِسْمٰعِيْلَ وَاِسْحٰقَ ؕ اِنَّ رَبِّيْ لَسَمِيْعُ الدُّعَآءِ ﴿۳۹﴾ رَبِّ اجْعَلْنِيْ مُقِيْمَ الصَّلٰوةِ
وَمِنْ ذُرِّيَّتِيْ ۖ رَبَّنَا وَتَقَبَّلْ دُعَآءِ ﴿۴۰﴾ رَبَّنَا اغْفِرْ لِيْ وَلِوَالِدَيَّ وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ يَوْمَ يَقُوْمُ الْحِسَابُ ﴿۴۱﴾ وَلَا ع ۲۴
تَحْسَبَنَّ اللّٰهَ غَافِلًا عَمَّا يَعْمَلُ الظّٰلِمُوْنَ ۬ؕ اِنَّمَا يُؤَخِّرُهُمْ لِيَوْمٍ تَشْخَصُ فِيْهِ الْاَبْصَارُ ﴿۴۲﴾ مُهْطِعِيْنَ

چه مونږ پټوؤ اوپه هغه څه چه ښکاره کوو اونه پټیږی په الله تعالی هیڅ شے په زمکه کښ اونه په آسمان کښ(۳۸) ټول صفتونه دَالوهیت خاص الله تعالی لره دی هغه ذات چه رااوبخوئے ماته سره دَ زورِوالی نه اسمٰعیل او اسحٰق یقیناً رب زما خامخا قبلوونکے دَ دُعا دے (۳۹) اے ربه اوګرځوے ماپابندی کوونکے دَ مانځه اودَ اولاد زمانه هم ،اے ربه زمونږاوقبوله کړے دُعا زما (٤٠) اے ربه زمونږ اوبخے ما اومور پلار زما او ټول مؤمنان په کومه ورځ چه شروع کیږی حساب(٤١) او ګمان مکوه په الله تعالی باندے دَ غافل دَ هغه کارونو چه کوی ئے ظالمان یقیناً مهلت ورکوی دویته هغه ورځ ته چه کړوغے به راوزی په هغے کښ سترګے (٤٢) منلے به وهی

نه بعض خلق دَکعبے سره محبت لری﴿لَعَلَّهُمْ يَشْكُرُوْنَ﴾مراد دَ دے نه شکرکول دی په توحید منلوسره اوپه دعوت کولوسره توحیدته، اودا دُعاګانے دَ ابراهیم علیه السلام قبولے شوی دی۔

فائده(۱): داکاردَ ابراهیم علیه السلام، په امردَ الله تعالی سره وولکه چه ذکردی په صحیح حدیث کښ نودا اعتراض نشی کیدلے چه دائے دَ ساره دَ خوشحالولودَ پاره اوکړو لکه چه یهودیان وائي او دارنګ بل چاله نه دی جائزچه اهل وعیال سره دغسے کاراوکړی په اقتداء دَ ابراهیم علیه السلام سره لکه چه داسے کارکوی بعضِ متصوفه اووائي چه دا توکل دے۔ ذکرشوی دی داپه تفسیرقرطبی کښ۔

فائده(۲): ﴿لِيُقِيْمُوْا﴾کښ اشاره ده چه دا ځائے دے مرکزدَتوحید جوړشی اومرکزجوړیدل په دوه ځیزونوباندے موقوف وی یودَ خلقو میلان اوبل دَ هغوی دپاره خوراك دَ دے وجے نه دا دواړه دعاګانے ئے اوغوختلے۔

[۳۹،۳۸] په دے دواړوآیتونوکښ ذکردے توسل دَ ابراهیم علیه السلام په صفاتودَ الله تعالی سره اودا شرعی وسیله ده ﴿مَانُخْفِيْ وَمَانُعْلِنُ﴾ عام دے ټولواقوالواوافعالودَ انسانانوته ﴿وَمَايَخْفٰى﴾ په دے کښ دَ ماقبل نه زیات عموم دے سیوا دَ انسانانونه نورځیزونوته هم شامل دے اودا قول هم دَ ابراهیم علیه السلام دے او بعضو وئیلی دی چه دا قول دَ الله تعالی دَطرف نه دے دَپاره دَ تتمه دَ قول دَ ابراهیم علیه السلام۔

[٤١،٤٠] دَ اقامت دَ صلوة نه مراد اقامت دَټول دین دے اوپه دے دواړوآیتونوکښ دُعا دَ ابراهیم علیه السلام ده دَپاره دَ خپل ځان اودَپاره دَ اولاد اودَپاره دَ موراوپلاراودَ ټول مؤمنانو۔ اودُعا دَ ابراهیم علیه السلام په مغفرت سره دَپاره دَ پلار خپل په هغه وخت وَه چه دَهٔ ته لانهٔ وه معلومه شوے چه دے دُښمن دَ الله تعالی دے اودا ذکر شوی دی په سورة توبه (۱۱٤) کښ۔ اوپه دے آیت کښ ورځ دَ حساب ئے په دے وجه خاص کړے ده چه دَ مغفرت فائده ښکاره کیږی په ورځ دَحساب۔

مُقْنِعِيْ رُءُوْسِهِمْ لَا يَرْتَدُّ اِلَيْهِمْ طَرْفُهُمْ ۚ وَاَفْـِٕدَتُهُمْ هَوَآءٌ ﴿۴۳﴾ وَاَنْذِرِ النَّاسَ يَوْمَ يَاْتِيْهِمُ
الْعَذَابُ فَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا رَبَّنَآ اَخِّرْنَآ اِلٰٓى اَجَلٍ قَرِيْبٍ ۙ نُّجِبْ دَعْوَتَكَ وَنَتَّبِعِ الرُّسُلَ ؕ اَوَلَمْ تَكُوْنُوْٓا
اَقْسَمْتُمْ مِّنْ قَبْلُ مَا لَكُمْ مِّنْ زَوَالٍ ﴿۴۴﴾ وَّسَكَنْتُمْ فِيْ مَسٰكِنِ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ وَتَبَيَّنَ لَكُمْ كَيْفَ
فَعَلْنَا بِهِمْ وَضَرَبْنَا لَكُمُ الْاَمْثَالَ ﴿۴۵﴾ وَقَدْ مَكَرُوْا مَكْرَهُمْ وَعِنْدَ اللّٰهِ مَكْرُهُمْ ؕ وَاِنْ كَانَ مَكْرُهُمْ

اوچت کړی به ئے وی سرونه خپل نه به راګرځی دوئ ته سترګے دَ دوئ اوزړونه دَ دوئ به خالی وی (دَپوهے نه)(۴۳) او ویره ورکړه خلقوته دَ داسے ورځ نه چه رابه شی پدوئ باندے عذاب پس وائی به هغه کسان چه ظالمان دی اے ربه زمونږ مهلت راکړے مونږ لره نیټے نزدے ته قبول به کړو مونږ دعوت (دَ توحیدستا) او تابعداری به اوکړو دَ رسولانو آیا تاسو قسمونه نه وو کړی دَ دے نه پخوا چه نیشته تاسو لره هیڅ فنا (۴۴) او اوسیدلی ئے تاسو په ځایونو دَ اوسیدلو دَهغه کسانو کښ چه ظلم ئے کړے وو په ځانونو خپلو او ښکاره شویده تاسوته چه څرنګ کار کړیدے مونږ دَ دوئ سره اوبیان کړی دی مونږ تاسوته مثالونه (۴۵) اویقیناً مکرونه کړی وو دوئ مکرونه خپل اوپه نیزدَ اللّٰه تعالیٰ مکر دَ دوئ دے اونه دے مکر دَ دوئ

[۴۲،۴۳] پدے آیت کښ تسلی ده رسول ته په مخالفت کولودَ ظالماتودَ دین دَ ابراهیمعليه السلام نه اوپه دے دواړوآیتونوکښ تخویف اُخروی هم دے په ذکرد َ هیبت دَ قیامت سره اوداسے وئیلی دی میمون ابن مهران چه دا آیت وعید دے دَپاره دَ ظالم او تعزیه ده دَ پاره دَ مظلوم ﴿تَشْخَصُ﴾ شخوص دے ته وئیلے شی چه دَ هیبت دَ وجے نه سترګے وازے وی اونه رپیږی۔ مطلب دَ آیت دا دے چه دَ هیبت اثربه دَ دوی په سترګو اوسرونواو زړونوباندے وی۔

[۴۴] دا عطف دے په ولاتحسبن باندے یعنی په وخت دَمهلت دَ دوی کښ انذار اوکړه۔ پدے آیت کښ تخویف دنیوی دے ځکه چه مراد دَ عذاب نه عذاب دَ دنیا دے په دلیل دَ دے لفظ سره چه رَبَّنَآاَخِّرنَا اودَ بعض مفسرینوپه نیزدَ یوم او العذاب نه مراد ورځ دَ عذاب دَ قیامت ده اوآَخِّرنَا په معنیٰ دَ ارجعنا (واپس کړے مونږدنیاته) دے۔ اوپه دے آیت کښ اشاره ده چه مخالفت کول دَظالمانوپه دوو طریقو سره وی یوانکار دَ دعوت دَ توحید نه اودویم انکاردَ تابعدارئے دَ رسول نه ﴿مَالَكُمْ مِّنْ زَوَالٍ﴾ مراد دَ زوال نه عذاب دے یا مراد دَ زوال نه فناده نوحاصل دَ معنیٰ دا دے چه نیشته تاسولره فنا په اجتماعی طور سره یعنی دَ دنیا دَ فنانه تاسوانکارکوؤ لکه اوس هم دا عقیده ده دَ ملحدینواګر چه دَ افرادودَ مرګ نه انکارنشی کولے لیکن دنیا قدیم ګڼړی اودَ قیامت نه انکارکوی۔

[۴۵] په دے آیت کښ زجردے منکرینوته چه ستاسودَ انکار دپاره هیڅ وجه نه وه پس دَ دے درے حالتونونه اول داچه دَ تیرو شوو ظالمانوکورونه تاسو لیدلی وو اودَ هغوی دَ عذابونونبے تاسوته ښکاره شوے وے اوتاسوته واقعات دَ عذاب هم بیان شوی وونوتاسوعبرت ولے نه اخستو اودَ دے حالاتوخلاصه دا ده چه په مشاهدے سره تاسوته علم حاصل شویدے او دارنګ دَ مخکنوپه تاریخی واقعاتواو ریدلوسره اودارنګ دَ وحی په ذریعه سره۔

لِتَزُوْلَ مِنْهُ الْجِبَالُ ﴿٤٦﴾ فَلَا تَحْسَبَنَّ اللّٰهَ مُخْلِفَ وَعْدِهٖ رُسُلَهٗ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ ذُو انْتِقَامٍ ﴿٤٧﴾ يَوْمَ تُبَدَّلُ الْاَرْضُ غَيْرَ الْاَرْضِ وَالسَّمٰوٰتُ وَبَرَزُوْا لِلّٰهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ ﴿٤٨﴾ وَتَرَى الْمُجْرِمِيْنَ يَوْمَئِذٍ مُّقَرَّنِيْنَ فِي الْاَصْفَادِ ﴿٤٩﴾ سَرَابِيْلُهُمْ مِّنْ قَطِرَانٍ وَّتَغْشٰى وُجُوْهَهُمُ النَّارُ ﴿٥٠﴾ لِيَجْزِيَ اللّٰهُ كُلَّ

چه لرے شی دَ وجے دَهغے نه غرونه (٤٦) پس گمان مکوه په الله تعالیٰ باندے خلاف کوونکے دَ وعدے خپلے دَ رسولانو خپلو سره یقیناً الله تعالیٰ زور ور دے بدله اخستونکے دے (٤٧) په داسے ورځ چه بَدَله به کړیشی دا زمکه دَ دے نه په بله سره اوهم آسمانونه او پیش به شی الله تعالیٰ ته چه یو دے زور وردے (٤٨) اوته به اُوینے مجرمان په دغه ورځ یوځے ترلے شوی په زنځیرونو کښے (٤٩) قمیصونه دَ دوئ به دَ رنزړونه وی اوپټه وی به مخونه دَ دوی لره اُور (٥٠) دَ دے دپاره چه بدله به ورکړی الله تعالیٰ هر

[٤٦] مراد دَ مکرِدَ دوی نه شرك کول اوانکاردَ رسولانودے یا مراد دَ دے نه مقابله کول دی دَ انبیاؤاودَ مؤحدینوسره په مختلفوتدبیرونوسره ﴿وَاِنْ كَانَ مَكْرُهُمْ لِتَزُوْلَ مِنْهُ الْجِبَالُ﴾ په دے کښ یوتوجیه دا ده چه دَ دوی مکرونه کمزوری دی په هغے دَ الله تعالیٰ غرونه نه شی بے ځایه کولے په دے کښ جبال په خپله معنیٰ سره مراد دی اوسپکوالے دَ مکرونومراد دے دویمه توجیه دا ده چه مراد دَ جبال نه توحید اودین دَ انبیاؤدے په طریقه دَمثال سره نوجبال په معنیٰ مثالی سره دے۔ اوإن وصلیه دے یا مخفف عن المثقل دے اولام مفتوح دے او داپه قراءة دَ عبد الله بن مسعود کښ شته۔

[٤٧] په دے کښ تسلّی ده پیغمبرته په بلے طریقه سره اومراد دَ وعدے نه وعده دَ نصرت ده په دنیا او اخرت کښ اوهرکله چه مخکښ دَ اقوام مکذبوعذاب ذکرکړے شونوپه هغے باندے په فاء سره تفریع اوکړه دَ پاره دَ تسلئے ورکولونبی ته۔

[٤٨] دا تخویف اخروی دے اوذکر دَ هغے ورځے دے چه په هغے کښ وعده پوره کیږی اوپه باره دَ تبدیل کښ دوه قوله دی یوقول دا دے چه دا تبدیل ذاتی دے یعنی اسمانونه او زمکه به فناشی اوهرکله چه ذات اوصفت دواړه بدلیږی نولفظ دَ تبدیل اوغیر دواړه ئے ذکرکړیدی اوحدیث دَ مسلم کښ راغلی دی چه عائشه رضی الله عنها تپوس اوکړوچه په وخت دَ تبدیل دَ زمکے کښ انسانان به کوم ځائے وی نو رسول الله ﷺ جواب اوکړو چه په جسر (پل) باندے به وی نو هرکله چه دا اسمانونه او زمکه به فناکړے شی نودَ دوی په ځائے به نورپیداکړے شی اودویم قول دا دے چه دا تبدیل وصفی دے یعنی دَ آسمانونواو دَ زمکے دا موجوده کیفیت به بدل کړے شی، لکه چه دَ جهنم والوځرمنے پس دَ سوزیدلونه بدلولے شی۔

[٤٩] ﴿مُقَرَّنِيْنَ﴾ کښ اشاره ده چه دَ یوقسم مجرمان به یوځائے ترلے کیږی یا داچه لاسونه اوخپے به ئے یوځائے ترلے شی۔

[٥٠] پدے ایت کښ اشاره ده چه عذاب دَ جهنم به احاطه کړے وی په دوی باندے دَ هر طرف نه لکه قمیص چه په ټول بدن باندے احاطه کړے وی لیکن سرابیل نه مراد معنی حقیقی ده۔ اوقطران رانزړوته وائي چه په هغے سره اوښان غوړول کیږی په وخت دَ مرض دَ ښارخ کښ نوپه دے کښ اشاره ده چه په جهنمیانو باندے عذاب دَ ښارخ به وی اودارنګ رانزړه چه دی نو سبب دَ تیزیدلودَ اور دے او بدبوینه هم وی۔

نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ﴿۵۱﴾ هٰذَا بَلٰغٌ لِّلنَّاسِ وَلِيُنْذَرُوْا بِهٖ وَلِيَعْلَمُوْٓا اَنَّمَا هُوَ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ وَّلِيَذَّكَّرَ اُولُوا الْاَلْبَابِ ﴿۵۲﴾

نفس لره جزا دَعمل دَ هغه یقیناً اللّٰه تعالیٰ زر حساب کؤونکے دے (۵۱) دا (قرآن) دپاره دَ رَسولو دے خلقوته او دَ دے دَپاره چه اویرولے شی په دے سره (خلقو لره) او دے دپاره چه پوهه شی (خلق) چه یقیناً اللّٰه تعالیٰ حقدار دَ بندګئ دے یودے او دے دپاره چه نصیحت واخلی صاف عقل والا(۵۲)

[۵۱] ﴿سَرِيْعُ الْحِسَابِ﴾ کښ دوه معنے دی یودا چه ورځ دَ حساب زر راتلونکے ده اودویم دا چه حساب کول شروع کړی نوزربه ئے ختموی۔

[۵۲] دا دَ ابتداء دَ سورة سره تعلق لری په دے ایت کښ ترغیب دے قرآن ته چه هغه سبب دَ بچ کیدلودے دَ عذاب نه اوپه دیکښ دَ قرآن کریم څلورفائدے ذکرکړے شوی دی، اول دا چه قرآن تبلیغ دَ پاره دَ عاموخلقو دے دویم داچه دا انذاردے دَ عذاب نه، دریم داچه دا دَ تعلیم دَ توحید دَ پاره دے، اوځلورم دا چه دا تذکیردَ عقل والودَپاره دے اوپه دے ایت کښ تصریح ده چه موضوع دَ قرآن توحید دے۔

سُوْرَةُ الْحِجْرِ (۱۵) مَكِّيَّةٌ (۵۴) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۹۹ رُكُوْعَاتُهَا ۶

الٓرٰ ۚ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ وَ قُرْاٰنٍ مُّبِيْنٍ ①

الٓرٰ۔ داآیاتونه دی دَکتاب اودَقرآن واضح بیان کؤونکی(۱)

سورة الحجر

ربط: دَ دے سورة دَ تیرشوی سورة سره دا دے چه سورة ابراهیم کښ تذکیر وو په ایام اللّٰه سره نوپه دے سورة کښ دَ هغے پنځه نمونے پیش کوی۔ دویم دا چه په هغه سورة کښ دَ اخراج عن الظلمات دَپاره دَ قرآن ذکر وو نوپه دے سورة کښ دَ هغے دَپاره عقلی دلیلونه ذکر کوی۔

دعویٰ دَ دے سورة: تخویف دے په عذاب سره منکرینودَتوحیدته په ذکرد هلاك شووقومونواجمالاًپه آیت (٥،٤)کښ او تفصیلاًپه ذکردَعذاب سره په دریوقومونوتیرشوو باندے اودَ دووډلودَ مکے والونه۔ اوسبب دَ دوی دَ عذاب انکار دے دَتوحید نه نوائبات دَتوحید ئے کړیدے پدے سورة کښ په دریوطریقوسره اوله طریقه، لس عقلی دلیلونه اودویمه طریقه ردکول په درے اقساموددَ شرك باندے چه هغه شرك فی التصرف اوشرك فی العبادة دے اوشرك فی العلم دے۔ اودریمه طریقه ذکرکول دَاوو (۷) اسماء حسنٰی دَاللّٰه تعالیٰ دی اودعویٰ دَتوحیدپه آخردَ سورة کښ ذکرکړے شوے ده په آیت (۹۹،۹۸) کښ۔

خلاصه دَ دے سورة دا ده : چه دا سورة تقسیم دے دریوبابونوته اول باب تر(۱۵) ایت پورے دے په دے کښ اول ترغیب دے قرآن ته په آیت نمبر(۱)کښ بیا تخویف دے په ذکردَتمناکولودَ ایمان په آیت (۲)کښ بیا زجر په آیت (۳)کښ بیا تخویف دنیوی په (٥،٤)کښ اودا دعویٰ دَسورة ده بیا زجردے په انکاردَ رسول په آیت (۸،۷،٦)کښ بیا ترغیب دے قرآن ته په (۹) آیت کښ بیا زجردے په استهزاء کولو رسولانو پورے دَ ایت (۱۰) نه تر (۱۳) پورے بیا زجردے په انکاردَ معجزاتوسره عنادًا په (۱۵،۱٤) ایت کښ۔

تفسیر

[۱] پدے کښ ترغیب دے قرآن ته ﴿الٓرٰ﴾ بحث دَ مقطعاتومخکښ تیرشویدے اودا دلیل دے په اعجازدَ قرآن کریم باندے او دَ﴿الْكِتٰبِ﴾ نه مراد مخکنی کتابونه دی اوپه دے کښ اشاره ده چه په دے سورة کښ ذکرکیږی واقعات دَ مخکنوقومونو اودَ روستنو قومونو یعنی دَ مکے والا دَ دوه ډلو چه مقتسمین اومستهزئین دی۔

رُبَمَا يَوَدُّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوْ كَانُوْا مُسْلِمِيْنَ ۲ ذَرْهُمْ يَاْكُلُوْا وَيَتَمَتَّعُوْا وَيُلْهِهِمُ الْاَمَلُ فَسَوْفَ
يَعْلَمُوْنَ ۳ وَمَآ اَهْلَكْنَا مِنْ قَرْيَةٍ اِلَّا وَلَهَا كِتَابٌ مَّعْلُوْمٌ ۴ مَا تَسْبِقُ مِنْ اُمَّةٍ اَجَلَهَا وَمَا
يَسْتَاْخِرُوْنَ ۵ وَقَالُوْا يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْ نُزِّلَ عَلَيْهِ الذِّكْرُ اِنَّكَ لَمَجْنُوْنٌ ۶ لَوْ مَا تَاْتِيْنَا بِالْمَلٰٓئِكَةِ
اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ۷ مَا نُنَزِّلُ الْمَلٰٓئِكَةَ اِلَّا بِالْحَقِّ وَمَا كَانُوْٓا اِذًا مُّنْظَرِيْنَ ۸ اِنَّا نَحْنُ
نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَاِنَّا لَهٗ لَحٰفِظُوْنَ ۹ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ فِيْ شِيَعِ الْاَوَّلِيْنَ ۱۰ وَمَا يَاْتِيْهِمْ مِّنْ

ډیرکرته ارمانونه به کوی کافران چه کاش دوئ توحید قبول کړے وے(۲)پریږده دوئ چه خوراك کوی اومزے دَ دُنیا اخلی اوغافل کړیدی دوئ لره امیدونو نوزر ده چه دوی به پوهه شی(۳) اونه دے هلاك کړے مونږ یو کلے مګر دَ هغے دپاره لیکل دی مقرر(٤) نه شی واړندے کیدے یو امت دَخپلے نیټے نه اونشی روستو کیدے (٥) او دوئ وائی اے داسے سړیه چه نازل کړے شویده په هغه باندے وحی (په خپل ګمان کښے) ته یقیناً خامخا لیونے ئے (٦) ولے نه راولے مونږ ته ملائك که ته ئے دَ رشتینونه (۷) مونږ نه نازلوو ملائك مګر په عذاب سره او دغه وخت به دوئ له مهلت نشی ورکیدے (۸) یقیناً مونږ نازل کړیده وحی او یقیناً مونږ دَهغے حفاظت کوو(۹) او یقیناً لیږلی دی مونږ ستانه مخکښے (رسولان) په ډلو دَمخکنو کښے(۱۰) اونه به راتلو هغوئ ته

[۲] په دے ایت کښ ذکرد تخویف دے چه مشرکان به په وخت دَ عذاب کښ دَ توحید دَ منلواودَ قرآن منلوارمان کوی۔

[۳] په دے کښ زجردے په محبت دَ دنیا چه هغه خوراك اونورے مزے دَ دنیا دی اوزجردے په غفلت سره دَتوحید نه په سبب دَامیدونواودا اسباب دَ انکاردی اوحدیث مرفوع کښ نقل دی چه ځلورځیزونه سبب دَبدبختئی دی اول دَ سترګواوچوالے دویم دَ زړه سختوالے اودریم اوږدوالے دَ امیدونو اوځلورم حرص دَ دنیا۔

[٤،٥] پدے ایتونوکښ تخویف دنیوی دے چه عذاب به راځی په نیټه مقرره یعنی اګر چه دوی له مهلت ورکړے شویدے دَپاره دَ خوراك اومزو لیکن زرده چه په دوی به عذاب راځی لیکن دَ هغے دپاره اجل مقررشته دے اودا دعوئ دَ سورۃ ده۔

[٦] پدیکښ زجردے په استهزاء کولوسره په رسول پورے ﴿نُزِّلَ عَلَيْهِ الذِّكْرُ﴾ یعنی ستاپه دعوے سره اودا معطوف دے په ایت(۳) باندے اودَ منکرینوصفات قبیحه ذکرکوی۔

[۷] پدے ایت کښ طلب کول دی دَ رسول نه دَملائکو راوستلودپاره دَ شهادت ورکولوپه صدق دَ نبیﷺ یا دپاره دَ امداد کولولکه چه فرعون موسیٰعليه السلام نه هم دا مطالبه کړے وه سورۃ زخرف(۵۳)۔

[۸] پدے کښ جواب دے دَ تیرشوی سوال۔ اومراد دَ حَقُ نه عذاب دے یا وحی ده۔

[۹] په دے ایت کښ جواب دے دَ اول اعتراض (انك لمجنون) اوصدق دَ قرآن دے اوتسلی ده نبیﷺ ته په حفاظت دَ قرآن کریم په مقابله دَ اعتراضونودَعنادیانو کښ۔ اوصدق دَ قرآن دلیل دے چه نبی مجنون نه

رَّسُوْلٍ اِلَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۱۱﴾ كَذٰلِكَ نَسْلُكُهٗ فِيْ قُلُوْبِ الْمُجْرِمِيْنَ ﴿۱۲﴾ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ وَقَدْ خَلَتْ
سُنَّةُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿۱۳﴾ وَلَوْ فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَابًا مِّنَ السَّمَآءِ فَظَلُّوْا فِيْهِ يَعْرُجُوْنَ ﴿۱۴﴾ لَقَالُوْٓا اِنَّمَا سُكِّرَتْ
اَبْصَارُنَا بَلْ نَحْنُ قَوْمٌ مَّسْحُوْرُوْنَ ﴿۱۵﴾ وَلَقَدْ جَعَلْنَا فِي السَّمَآءِ بُرُوْجًا وَّزَيَّنّٰهَا لِلنّٰظِرِيْنَ ﴿۱۶﴾

رسول مګر دوئ به په هغه پورے ټوقے کولے(۱۱) دغسے ورننه باسو مونږ(دا استهزاء) په زړونو دَ مجرمانو کښے(۱۲) ایمان نه راوړی په دے (قرآن باندے) اویقیناً تیره شویده طریقه دَمخکنو خلقو (۱۳) اوکه پرانزو مونږ په دوی باندے دروازه دَ آسمان نه نوپه رنړا ورځ په هغے کښے اوخیژی(۱٤) خامخا اوبه وائی یقیناً بندکړے شویدی نظرونه زمونږ بلکه مونږ داسے قوم یو چه جادو راباندے شویدے (۱۵) او یقیناً پیدا کړیدی مونږ په آسمان کښے غټ ستوری اوخائسته کړیدی مونږ دپاره دَنظر کوونکو (۱٦)

دے اوحفاظت دَ الفاظواودَمعانی دَ تغییرتبدیل اوتحریف نه په دے آیت کښ واضح دی اودا بداهةً معلومه ده چه په سوؤنوکلونه تیرشول اودشمنان دَ قرآن هم بے شماره دی اوتحریفونه ئیے هم لفظاً اومعناً کړیدی لیکن هغه تحریفونه چلیدلی نه دی اواللّٰه تعالیٰ داسے بندګان هره زمانه کښ پیداکړیدی چه دَ تحریفونوازاله کوی اودَ دے یوشاهدهغه قصه ده چه قرطبی په تفسیردَ دے ایت کښ ذکرکړیده بلکه اللّٰه تعالیٰ دَ احادیثودَ نبی ﷺ حفاظت هم کړیدے ځکه چه هغه هم ذکرمنزل دے دَهغے صحیح ضعیف اوموضوعی علماءِ حق په تفصیل سره ښکاره کړیدی اودا ایت صریح رد دے په شیعګانوباندے چه هغوی دا قرآن محرّف ګنړی دَ هغوی کتابونه پدے باندے ګواه دی۔

[۱۱،۱۰] په دے دواړو ایتونوکښ هم تسلّی ده نبی ﷺ ته په صبرکولوسره په استهزاء دَعنادیانوچه په تیرشوی انبیاؤ پورے استهزاګانے کړے شوی دی ﴿اَرْسَلْنَا﴾ مفعول حذف دے یعنی رُسُلاً ﴿شِيَعِ﴾ جمع دَشیعة ده هغه ډله چه دَچا تابعداری کوی که ښه وی اوکه بدوی۔

[۱۳،۱۲] په دے کښ زجردے منکرینوته چه دَ دوی عادت په شانتے دَ مخکنودے په استهزاء اوپه تکذیب کښ اودَ دے وجه ئیے ذکرکړیده په ﴿نَسْلُكُهٗ﴾ سره هٗ ضمیر راجع دے استهزاء اوتکذیب ته اوابن کثیر شرك ته راجع کړے دے مقصد یودے او داسے ذکر دے په سورة شعراء(۲۰۰،۲۰۱) کښ۔ هرکله چه په دے ایت کښ مراد دَ راتلونکی زمانے مجرمان دی نوفعل مضارع ئیے (نسلکه) ذکرکړه اوپه سورة شعراء کښ دَ تیرشوی زمانے مکذبین ذکروؤ نوهلته ئیے فعل ماضی ذکرکړیده۔ اودَ دے مرادهم هغه دے چه په ختم اللّٰه اوطبع اللّٰه کښ دے او هٗ ضمیرقرآن ته راجع کول ضعیف قول دے۔

[۱٤،۱۵]پدے آیتونوکښ زجردے په انکاردَمعجزاتوسره عناداً۔ اوبعض دَ معجزاتونه آسمان ته پورته کول دی ﴿فَظَلُّوْا﴾ کښ اشاره ده چه داپورته کول بالکل ښکاره اوحقیقةً وی ﴿اِنَّمَا سُكِّرَتْ اَبْصَارُنَا﴾ مراد دا دے چه دوی به وائي چه مونږ آسمان ته نه یوراخیژولے شوی لکن زمونږنظربندکړے شویدے بیا به اُوائي چه هاں دا آسمان دے خومونږه په جادوسره راخیژولے شوی یو۔

[۱٦] دَ دے آیت نه دویم باب دے تر(۵۰) آیت پورے په دے باب کښ لس عقلی دلیلونه دی دَ (۱٦) نه

وَحَفِظْنٰهَا مِنْ كُلِّ شَيْطٰنٍ رَّجِيْمٍ ﴿۱۷﴾ اِلَّا مَنِ اسْتَرَقَ السَّمْعَ فَاَتْبَعَهٗ شِهَابٌ مُّبِيْنٌ ﴿۱۸﴾ وَالْاَرْضَ
مَدَدْنٰهَا وَاَلْقَيْنَا فِيْهَا رَوَاسِيَ وَاَنْۢبَتْنَا فِيْهَا مِنْ كُلِّ شَيْءٍ مَّوْزُوْنٍ ﴿۱۹﴾ وَجَعَلْنَا لَكُمْ فِيْهَا مَعَايِشَ
وَمَنْ لَّسْتُمْ لَهٗ بِرٰزِقِيْنَ ﴿۲۰﴾ وَاِنْ مِّنْ شَيْءٍ اِلَّا عِنْدَنَا خَزَآئِنُهٗ ۫ وَمَا نُنَزِّلُهٗۤ اِلَّا بِقَدَرٍ مَّعْلُوْمٍ ﴿۲۱﴾

اوساتنه کړیده مونږ دَ آسمان دَ هر شیطان رټلے شوی نه(۱۷) مګر هغه شیطان چه غوږسارنه اوکړی پس روانه شی په هغه پسے شغله ښکاره (۱۸) اوزمکه خوره کړیده مونږ او اچولی دی مونږ په هغے کښے پاخه غرونه او زرغون کړیدی مونږ په دے کښے هر څیز وزنی (په اندازه) (۱۹) او پیداکړیدی مونږ تاسو لره پدے کښے اسباب دَ ژوند تیرولو او داسے خلق چه تاسو هغوی له روزی نه شئ ورکولے (۲۰) اونیشته هیڅ شے مګر زمونږ سره دَهغے خزانے دی اونه راکوځوو مګر په اندازه مقرر سره (۲۱)

تر(۲۰)پورے او پدے دلیلونوکښ اتلس صفتونه دَ قدرت اودَعلم دَ اللّٰه تعالیٰ ذکرکړے شوی دی، بیا ذکردَ واقعے دَ سجود دَ آدم علیه السلام دے، متعلق دَ دعوے دَ سورة سره چه هغه تخویف دے منکرینوته بیا ذکردَ تخویف اخروی دے په آیت (۴۳، ۴۴)کښ اوبیا بشارت اخروی دے دَ (۴۵) نه(۵۰) پورے، آیت(۱۶) هرکله چه ذکرکړے شوانکاردَمنکرینودَ توحید اوس ذکرکوی دلیلونه دَتوحید دپاره دَ ردپه هغوی باندے اومراد بُرُوج نه غټ ستوری دی په دلیل دَ دے قول سره چه وَزَيَّنّٰهَا ځکه چه زینت په ستوروسره دے لکه سورة صافات ایت (۶) اوسورة تبارك ایت (۵)کښ چه ذکردی یا مراد دَ بروج نه هغه منزلونه دی دَ نمرسپوږمئی وغیره چه وخت په وخت په هغے کښ ښکاره کیږی۔ اوپه دے آیت کښ دوه صفتونه دَ قدرت دَ اللّٰه تعالیٰ ذکرکړے شویدی۔

[۱۷] په دے ایت کښ دریم صفت دَ قدرت ذکر دے چه هغه حفاظت دے په ستوروسره۔

[۱۸] په دے ایت کښ طریقه دَ حفاظت ذکرده چه هغه ویشتل دَ شیطانانودی لکه سورة جن ایت (۸، ۹)کښ اوصافات (۸، ۹، ۱۰)کښ چه ذکردی۔

[۱۹] پدے ایت کښ درے صفات دَ قدرت ذکردی اومَد دَ زمکے قرآن کښ درے کرته ذکردے سورة رعد آیت(۳) اوسورة ق آیت (۷) اودا سورة اوپه لفظ دَ دحوسره ذکردے په سورة نازعات آیت (۳۰)کښ اوپه لفظ دَ فرش سره ذکردے په سورة ذاریات آیت (۴۸) اوسورة بقره آیت (۲۲)کښ اومراد دَ دے ټولونه جوړول دَ زمکے دی په داسے طریقے سره چه انسانان دَ هغے نه فائده اخستے شی اوکوم چه مد دَ زمکے دے په علاماتودَ قیامت کښ لکه په سورة انشقاق آیت(۳)کښ نومراد دَ هغے دا دے چه دَ زمکے نه به غرونه اوډیر ئے اوکندے لرے کړے شی اویومیدان به شی ﴿مَوْزُوْنٍ﴾ مراد دَ دے نه هغه څیزونه دی چه تللے کیدے شی په وزن سره لکه سره زر اوسپین زراوتانبه وغیره شوه یا مراد دَ موزون نه هغه شے دے چه مناسب وی دَ حکمت دَ اللّٰه تعالیٰ سره۔

[۲۰] په دے آیت کښ یوصفت دَ قدرت ذکردے﴿مَعَايِشَ﴾ دَ دے نه مراداسباب دَ ژوند تیرولو دی ﴿وَمَنْ لَّسْتُمْ لَهٗ بِرٰزِقِيْنَ﴾ دَ دے نه مراد څاروی اووحوش اوطیوراواولاد اوخدمتګاران دی۔ نوفائدے دَمخلوق دی اوروزی ورله اللّٰه تعالیٰ ورکوی۔

[۲۱] په دے آیت کښ دوه صفتونه دَ قدرت ذکردی اوپه دے آیت کښ دلیل دے چه خزانے دَ رزق

وَاَرْسَلْنَا الرِّيٰحَ لَوَاقِحَ فَاَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَسْقَيْنٰكُمُوْهُ ۚ وَمَآ اَنْتُمْ لَهٗ بِخٰزِنِيْنَ ﴿۲۲﴾ وَاِنَّا لَنَحْنُ
نُحْيٖ وَنُمِيْتُ وَنَحْنُ الْوٰرِثُوْنَ ﴿۲۳﴾ وَلَقَدْ عَلِمْنَا الْمُسْتَقْدِمِيْنَ مِنْكُمْ وَلَقَدْ عَلِمْنَا الْمُسْتَاْخِرِيْنَ ﴿۲۴﴾
وَاِنَّ رَبَّكَ هُوَ يَحْشُرُهُمْ ۭ اِنَّهٗ حَكِيْمٌ عَلِيْمٌ ﴿۲۵﴾ وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ مِنْ صَلْصَالٍ مِّنْ حَمَاٍ
مَّسْنُوْنٍ ﴿۲۶﴾ وَالْجَاۗنَّ خَلَقْنٰهُ مِنْ قَبْلُ مِنْ نَّارِ السَّمُوْمِ ﴿۲۷﴾ وَاِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلٰۗىِٕكَةِ اِنِّىْ خَالِقٌۢ بَشَرًا

او لیږلی دی مونږ هواګانے پورته کړونکے دَوریځو پس رااو ورومونږ دَ آسمان دَ طرف نه اوبه پس څښکوؤ تاسوته هغه اونه ئے تاسو جمع کړونکی هغے لره (۲۲) اویقیناً مونږ ژوندی کول او مړه کول کړو او مونږ یو باقی پاتے کیدونکی (۲۳) اویقیناً پیژنو مخکنی ستاسونه او یقیناً پیژنو روستنی خلق (۲۴) او یقیناً ستا رب هغه به جمع کړی دوی لره یقیناً هغه حکمتونو والا دے پوهه دے په هرڅه باندے(۲۵) او یقیناً پیدا کړیدے مونږ انسان دَ ټینګار کړونکے دَ خټے زړے شوے نه (۲۶)او پلار دَ پیریانو پیدا کړیدے مونږ مخکښے (دَ ادم علیه السلام نه) دَ اور نه چه ګرم باد والاوو(۲۷) اوکله چه اُوئیل ستارب ملائکوته یقیناً ځه پیدا کړونکے یم یو بشر لره

وغیره اللّٰه تعالیٰ دَخپل حکمت مناسب تقسیموی اوپه هغه باندے څه اعتراض نشی کیدے۔

فائده: دا آیت دلیل دے په دے خبره چه څوك عقیده لری چه اختیاردَخزانودَ اللّٰه تعالیٰ نبی یاولی له ورکړے شویدے نو هغه مشرك دے لکه چه جاهلان داتا اوګنج بخش په لاهورکښ دَ علی هجویری په صفت کښ وائي۔

[۲۲] په دے آیت کښ درے صفات دَ قدرت ذکردی اوپه آخرکښ عجزدَمخلوق ذکرکړیدے په دے لفظ سره وَمَا اَنْتُمْ لَهٗ بِخٰزِنِيْنَ ﴿لَوَاقِحَ﴾ په معنیٰ دَحوامل دے یعنی هواګانے پورته کوی وریځے اواوبه اوخاورے دورے وغیره اودارنګ په اونو کښ پانړے میوے پیداکوی۔

[۲۳] په دے آیت کښ درے صفات دَ قدرت ذکردی ﴿وَنَحْنُ الْوٰرِثُوْنَ﴾ مراد دَ وارث نه اخری مالك دے اوداسے په سورة العمران (۱۸۰) اوسورة مریم (۴۰، ۸۰) کښ ذکر دی۔

[۲۴] په دے آیت کښ صفت دَ علم دَ اللّٰه تعالیٰ ذکردے په طریقه دَ احاطے سره۔ اومستقدمین اومستاخرین عام اوشامل الفاظ دی دَ دے لاندے داخل دی هغه خلق چه مخکښ تیرشوی دی اوهغه چه لاروستودی یعنی پیداشوی ندی اودارنګ هغه څوك چه مړه دی اوهغه څوك چه اوس ژوندی دی اودارنګ مخکنی امتونه او دا امت او دارنګ هغه څوك چه وړاندے دی په خیراوپه طاعت کښ اوهغه څوك چه روسته پاتے دی په ګناه اوپه شرکښ، اودا رنګ مخکنی صفونه دَجهاد او روستنی صفونه دَ جهاد، اودارنګ مخکنی صفونه دَ مانځه او روستنی صفونه دَمانځه اودارنګ هغه څوك چه شهید شوی دی په جهاد کښ اوهغه څوك چه نه دی شهید شوی۔ اودارنګ تیرشوے مخلوق او روستنے مخلوق نومعلومه شوه چه دَ اللّٰه تعالیٰ دَ علم نه هیڅ شے بهر نه دے۔

[۲۵] په دے آیت کښ یوصفت دَ قدرت ذکردے اودوه اسماء حسنیٰ ذکردی۔

[۲۶] په دے آیت کښ هم یوصفت دَ قدرت دے چه هغه پیداکول دَ آدم علیه السلام دی او ﴿صَلْصَالٍ﴾ اوچه

مِّنْ صَلْصَالٍ مِّنْ حَمَإٍ مَّسْنُوْنٍ ﴿۲۸﴾ فَإِذَا سَوَّيْتُهُ وَنَفَخْتُ فِيْهِ مِنْ رُّوْحِيْ فَقَعُوْا لَهُ سٰجِدِيْنَ ﴿۲۹﴾ فَسَجَدَ
الْمَلٰٓئِكَةُ كُلُّهُمْ اَجْمَعُوْنَ ﴿۳۰﴾ اِلَّآ اِبْلِيْسَ ؕ اَبٰٓى اَنْ يَّكُوْنَ مَعَ السّٰجِدِيْنَ ﴿۳۱﴾ قَالَ يٰٓاِبْلِيْسُ مَا لَكَ اَلَّا

دَ ټینګار کؤونکے دَ خټے زړے شوے نه (۲۸) پس هرکله چه برابر ئے کړم او پوکم په هغه کښے دَ روح خپل نه پس پریوځئ هغه ته سجده کؤونکی (۲۹) نوسجده اوکړه ملائکو ټولو په جمع سره (۳۰) مګر ابلیس انکار اوکړو چه شی دَ سجده کؤونکو سره (۳۱) اللّٰه تعالیٰ اوفرمائیل اے ابلیسه څه عذر دے ستا چه

خټه چه ګلیه وی دَ شګوسره اوګړنګارکوی خوپه اورسره نه وی پخ شوی اوچه په اورپخه کړے شی نوهغے ته فخاروائي او ﴿حَمَإٍ﴾ هغه خټه ده چه ډیروخت لونده پریخودے شی نوخمبیره شی اورنګ ئے بدل شی توروالی طرف ته ﴿مَسْنُوْنٍ﴾ هغه ده چه ډیر کلونه وربانده تیرشی نوزړه شی۔

فائده: ترتیب دَپیدائش دَ آدم علیه السلام دا دے چه اول خاوره وه (تراب) بیالونده کړے شوه نو خټه شوه (طین) بیا څه وخت پریخودے شوه نوسلیخناکه شوه(لازب)بیاځهٔ وخت پریخودے شوه نوخمبیره شوه او رنګ ئے بدل شونوحَمَإٍ مَسنُون شو بیابنه اوچه شوه چه ګړنګار ئے کوو نوصلصالٍ شواواواز ئے مشابه وو دَ ټکری سره نوکَالفَخَّار شو۔

[۲۷] پدے آیت کښ هم یوصفت دَ قدرت ذکردے چه هغه پیدائش دَ جَان دے دَ هغه اورنه چه هغے سره تیزه ګرمه سیلئی وه اولوګئے ورسره نه وؤ او ﴿اَلْجَآنَّ﴾ کښ دوه قوله دی یودا دے چه جان دَجناتوپلار دے اومخکښ وؤدَ ابلیس نه اوابلیس خو پلار دَ شیطانانودے، دویم قول دا دے چه جان اوابلیس یودے اول قول غوره دے ﴿السَّمُوْمِ﴾ هغه هوا چه ګرمه وی او ورننوځی په مساماتو دَ بدن کښ۔

فائده: هغه حدیث چه امام مسلمؒ راوړے دے اودلالت کوی چه دَ آسمانونواودَ زمکے په پیدائش پسے متصل آدم علیه السلام پیدا شوے دے هغه په ظاهرکښ دَ دے آیت نه خلاف دے دَ دے وجے نه محدثینو هغه رد کړے دے ، او ابن کثیرپه خپل تفسیرکښ دا تفصیل راوړے دے۔

[۲۸] دَ دے آیت نه تر(۴۲) پورے واقعه دَسجود آدم علیه السلام ده اودا دریم کرت دے دَ دے واقعے دَ ذکرکولوپه قرآن کریم کښ اولوئے مقصد دَ دے نه پدے سورة کښ تخویف دے منکرینوته لکه چه ابلیس انکارکړے وودَحکم دَاللّٰه تعالیٰ نه دَ وجے دَ استکبارنه نوهغه له عذاب ورکړے شوپه رجم سره اوپه لعنت سره تررورځ دَ جزا پورے۔ نودارنګ چه څوك انکارکوی دَ توحید دَ اللّٰه تعالیٰ نه په ضدوعناد اوتکبرسره نودَ هغه عاقبت هم عذاب دے اودا آیت صریح دلیل دے چه آدم علیه السلام بشروونو اولاد دَ هغه هم بشردی که انبیاء وی اوکه اولیاء وی اوکه عام انسانان وی۔

[۲۹] ﴿مِنْ رُّوْحِيْ﴾ روح نه مراد هغه شے دے چه په هغے سره په بدن کښ ژوندپیداکیږی اوهغه مخلوق دے خواللّٰه تعالیٰ ته ئے اضافت شویدے دَپاره دَشرافت ﴿سَاجِدِيْنَ﴾ قرطبی وئیلی دی چه مراد دَ دے نه سجده دَسلام اودَ اکرام ده نه دَ عبادت۔

[۳۱،۳۰] تفصیل دَسجدے اودَ استثناء ابلیس مخکښ سورة بقره اوسورة اعراف کښ تیرشوے دے۔

فائده: دَ سورة بقرے دَ ترتیب نه معلومیږی چه امردَ سجدے ملائکوته پس دَ پیدائش دَ آدم علیه السلام اودَ

تَكُوْنَ مَعَ السّٰجِدِيْنَ ﴿۳۲﴾ قَالَ لَمْ اَكُنْ لِّاَسْجُدَ لِبَشَرٍ خَلَقْتَهٗ مِنْ صَلْصَالٍ مِّنْ حَمَاٍ مَّسْنُوْنٍ ﴿۳۳﴾ قَالَ
فَاخْرُجْ مِنْهَا فَاِنَّكَ رَجِيْمٌ ﴿۳۴﴾ وَّاِنَّ عَلَيْكَ اللَّعْنَةَ اِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ ﴿۳۵﴾ قَالَ رَبِّ فَاَنْظِرْنِيْٓ اِلٰى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ ﴿۳۶﴾
قَالَ فَاِنَّكَ مِنَ الْمُنْظَرِيْنَ ﴿۳۷﴾ اِلٰى يَوْمِ الْوَقْتِ الْمَعْلُوْمِ ﴿۳۸﴾ قَالَ رَبِّ بِمَآ اَغْوَيْتَنِيْ لَاُزَيِّنَنَّ لَهُمْ فِي

نشوے دَ سجدہ کؤونکو سرہ (۳۲) اُوئیل هغه ځه نه یم چه سجده اوکړم بشرته چه تاجوړ کړے دے دَټینګار کؤونکے دَ ختے زړے شوے نه (۳۳) او فرمائیل اللّٰه تعالیٰ پس اوځه دَ دے ځائے ته پس یقیناً ته رټلے شوے ئے (۳۴) او یقیناً په تا باندے لعنت دے تر ورځ دَ جزاپورے (۳۵) اُوئیل هغه اے ربه نو مهلت راکړه مالره دَ ورځ دوباره پورته کیدو پورے (۳۶) او فرمائیل اللّٰه تعالیٰ پس یقیناً ته دَ مهلت ورکړے شؤو نه ئے (۳۷) تروروځ دَ وخت مقرر پورے (۳۸) اُوئیل هغه اے ربه په دے وجه چه تاځه بے لارے کړم نو خامخا خائسته به ښکاره کؤوم دوئ ته دَ

استخلاف دَ هغه نه وواودَ دے سورة دَ آیتونونه معلومیږی چه حکم دَ سجدے ملائکوته دَ آدم علیه السلام نه مخکښ ووډاپه ظاهرکښ تعارض دے۔ نوغوره جواب دَ دے دا دے چه دَپیدائش دَ آدم علیه السلام نه مخکښ امرتعلیقاً کړے شوے وواوهرکله چه پیداشواوخلیفه شونوملائکوته امردَ سجدے تنجیزاً اوکړے شونوحاصل دا دے چه په دے سورة کښ دَ آیت (۲۹) او(۳۰) په مینځ کښ کلام محذوف دے اوهغه دا دے چه آدم علیه السلام پیدا کړے شواوخلیفه اوګرځولے شواوتعلیم دَ اسماء و ورته اوکړے شونوامراوکړے شو ملائکوته چه اُسجُدُوا لِآدَمَ۔

[۳۲] په دے آیت کښ اشاره ده چه ابلیس یوه ګناه داکړے وه چه امردَ اللّٰه تعالیٰ ئے اونه منلوهغه په لفظ ابٰی سره ذکرشو اودویمه ګناه داوه چه دَ جماعت دَ ملائکو نه ئے مخالفت اوکړو۔

[۳۳] دا جواب دَ دهٔ په طریقه دَ حسد اودَ تکبرسره وؤ۔

[۳۴،۳۵] دے آیتونوکښ عذاب دَ ابلیس ذکردے اول راویستل دَ هغه دَ جنت نه دَ جماعت دَ ملائکونه اواسمانونونه، او دویم رجم دَ هغه چه مراد دَ هغے نه رټل اوشرل دی دَ دربار دَ اللّٰه تعالیٰ نه یا داچه ویشتلے کیږی به په شغلوسره دے او اولاد دَ دهٔ، اودویم عذاب دَ لعنت دے تر ورځ دَ جزاء پورے اوپه ورځ دَ جزاء کښ بیا عذاب ابدی دے اودارنګ ذکردے په سورة ص آیت (۷۷) او(۷۸) کښ۔

[۳۶] دا هم زیات جرم دَ دهٔ دے چه توبه ئے اونه کړه بلکه مهلت ئے اوغښتلودَپاره دَګمراه کولو دَخلقو ﴿اِلٰى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ﴾ اراده دَابلیس داوه چه په دے مهلت سره دَمرګ نه بچ شم ځکه چه په ورځ دَبعث اودَ هغے نه روسته مرګ نیشته۔

[۳۷] ﴿الْمُنْظَرِيْنَ﴾ هغه خلق دی چه ژوندی به وی دَ اولے شپیلئ په وخت کښ اوبیا به فنا شی۔

[۳۸] دَ دے نه ورځ دَ فناکیدلودَ ټولوخلقومراد ده نواشاره شوه دیته چه ابلیس به هم هغه وخت کښ مړکیږی هغه وخت ته ئے مَعْلُوم ځکه اووئیل چه دَ هغے حالات اوصفات په قرآن اوپه حدیث کښ بیان شویدی دا مراد ندے چه دَ هغے تاریخ مخلوق ته معلوم دے ځکه چه علم دَ هغے خاص دے په اللّٰه تعالیٰ پورے۔

الْأَرْضِ وَلَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٣٩﴾ إِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ الْمُخْلَصِينَ ﴿٤٠﴾ قَالَ هَٰذَا صِرَاطٌ عَلَيَّ مُسْتَقِيمٌ ﴿٤١﴾ إِنَّ عِبَادِي لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطَانٌ إِلَّا مَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْغَاوِينَ ﴿٤٢﴾ وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمَوْعِدُهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٤٣﴾

دُنیا په ځیزونو کښے او ګمراه کړوم به دوئ ټولو لره (۳۹) سیوا دَ بندګانو ستا دَ دوئ نه چه بچ ساتلے شوی دی (٤٠) اوفرمائیل اللّٰه تعالیٰ دا لار ده په ما باندے نیغه (٤١) یقیناً بندګان ځما نیشته تاله په دوی باندے وس دَ ګمراه کولو سیوا دَ هغه چانه چه تابعداری کوی ستا دَسرکشانونه (٤٢) او یقیناً جهنم ځائے مقرر شویدے دوی ټولو لره (٤٣)

[۳۹] ﴿بِمَآ اَغْوَيْتَنِىْ﴾ باسببیه ده اومراد دَاغواء نه ګمراه کول دی یاحکم کول دی هغه ته په وتلوسره دَجنت او اسمانونونه ﴿فِى الْاَرْضِ﴾ مراد دَ زمکے نه دنیا اودَ دنیا مالونه وغیره دی۔ مراد دَ تزیین فی الارض نه مشغول کول دی په محبت دَدنیا سره په طریقه دَ وسوسو اچولواومراد دَ اغواء انسانانوته ښائسته کول دَګناهونواوترغیب ورکول ګناهونوته دی په طریقه دَ وسوسے سره۔

[٤٠] پدیکښ اشاره ده چه نیکان بندګان دَ ابلیس نه په بچ کیدلوکښ اللّٰه تعالیٰ ته محتاج دی ځکه چه مخلصین ئے په صیغه دَمفعول سره ذکر کړے دے۔

فائده: دا ایت دلیل دے په عصمت دَ انبیاء علیهم السلام دَ ټولو ګناهونوته ځکه که انبیاء علیهم السلام معصوم نه شی نو هغه نورخلق چه دَ دے ایت مصداق وی هغوی به غوره شی دَ انبیاؤ نه اودا دَ اصولو دَ شرعے نه خلاف ده۔

[٤١] په دے ایت کښ یوتوجیه دا ده چه ﴿هٰذَا﴾ اشاره ده عبدیت دَاللّٰه تعالیٰ ته چه په لفظ دَ ﴿عِبَادَكَ﴾ کښ ذکرشو، نومعنیٰ دا ده چه دا بندګی کول دَ اللّٰه تعالیٰ نیغه لاره ده چه زما په ذمه بیانول دَ هغے دی ﴿عَلَيَّ﴾ سره تقدیرد عبارت دے یعنی عَلَيَّ بیانه وَ هدَایتُه۔ اودویمه توجیه دا ده چه بندګی دَ اللّٰه تعالیٰ نیغه لارده زما طرف ته بنا په دے سره عَلَيَّ په معنیٰ دَ الیٰ سره دے اودریمه توجیه داده چه هذا کښ اشاره ده مضمون دَ ایت روستنی ته یعنی دغه فیصله ده مضبوطه زماپه نیزباندے یعنی مُسْتَقِيْمٌ نه مراد عدل دے اوعَلَيَّ په معنیٰ واجب علیَّ دے۔

[٤٢] په روستوتوجیه سره دا بیان دَ هذا صراط دے اوپه مخکنوتوجیهاتوسره دا علت دے دَ(٤٠) دپاره۔که څوك شبهه اوکړی چه په سورة ابراهیم ایت (۲۲)کښ معلومه شویده چه دَشیطان پخپلو تابعدارو باندے هیڅ سلطان نیشته اودارنګ سورة سبا (۲۱)کښ، اودے ایت نه معلومیږی چه دَ دهٔ پخپلو تابعدارو باندے سلطان شته دے دا په ظاهرکښ تعارض دے، نو جواب دا دے چه دلته سلطان نه مراد اغواء اوګمراه کول دی په داسے طریقه چه توبه نه اوباسی اودا سلطان دَ شیطان دَ پاره خاص دے دَ هغه په تابعدارو پورے لکه په سورة نحل (۱۰۰)کښ، اوسورة ابراهیم کښ دَسلطان نه مراد دلیل یا زوردے اودا استثناء منقطع ده﴿الْغٰوِيْنَ﴾کښ اشاره ده چه غوایت دَحکم دَاللّٰه تعالیٰ نه سبب دے دَ پاره دَ تسلط دَ شیطان په هغوی باندے۔

[٤٤،٤٣] په دے آیتونوکښ تخویف اخروی دے تابعدارو دَ ابلیس ته۔

لَهَا سَبْعَةُ اَبْوَابٍ ؕ لِكُلِّ بَابٍ مِّنْهُمْ جُزْءٌ مَّقْسُوْمٌ ﴿۴۴﴾ اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ فِيْ جَنّٰتٍ وَّعُيُوْنٍ ﴿۴۵﴾
اُدْخُلُوْهَا بِسَلٰمٍ اٰمِنِيْنَ ﴿۴۶﴾ وَنَزَعْنَا مَا فِيْ صُدُوْرِهِمْ مِّنْ غِلٍّ اِخْوَانًا عَلٰى سُرُرٍ مُّتَقٰبِلِيْنَ ﴿۴۷﴾ لَا يَمَسُّهُمْ
فِيْهَا نَصَبٌ وَّمَا هُمْ مِّنْهَا بِمُخْرَجِيْنَ ﴿۴۸﴾ نَبِّئْ عِبَادِيْٓ اَنِّيْٓ اَنَا الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ﴿۴۹﴾ وَاَنَّ عَذَابِيْ هُوَ الْعَذَابُ
الْاَلِيْمُ ﴿۵۰﴾ وَنَبِّئْهُمْ عَنْ ضَيْفِ اِبْرٰهِيْمَ ﴿۵۱﴾ اِذْ دَخَلُوْا عَلَيْهِ فَقَالُوْا سَلٰمًا ؕ قَالَ اِنَّا مِنْكُمْ وَجِلُوْنَ ﴿۵۲﴾ قَالُوْا

دَ هغے اووه دروازے دی دَ هرے دروازے دپاره دَ دوئ نه برخه مقرر شوے ده (٤٤) یقیناً متقیان خلق به په باغونو او چینو کښے وی(٤٥)(وئیلی کیږی به) ورننوځئے دے ته په سلامتیا سره بے غمه به وی(٤٦) او اوباسو به هغه چه دَ دوئ په سینو کښے څه خفګان وی رونړه به وی (ارام به کوی) په تختونو باندے یوبل ته به مخا مخ وی(٤٧) نه به رسی دوی ته په هغے کښے ستړے کیدل اونه به دوئ دَ هغے نه ویستلے کیدیشی(٤٨)خبرکړه بندګان ځما چه یقیناً ځه بخنه کؤونکے رحم کؤونکے یم (٤٩) او یقیناً ځما عذاب دا عذاب درد ناك دے(٥٠) اوخبرکړه دوی دَ میلمنو دَ ابراهیم(علیه السلام)نه (٥١) کله چه داخل شول هغه ته پس دوی اُوئیل سلام دے وی اُوئیل هغه یقیناً مونږ ستاسونه ویریدونکی یو(٥٢) دوی اُوئیل

فائده: هرکله چه دَتابعدارودَ ابلیس لوئیے ډلے اوه (٧) دی (١) عام ګنهګار دَ دے امت، او (٢) نصاریٰ او(٣) یهود او(٤)صابئون او(٥) مجوس او(٦) مشرکان غیرکتابی او(٧) منافقین نودَ دے دَپاره ئے ذکرکړه اوه (٧) ابواب دَجهنم چه هغه: (١) جهنم دے اوبیا (٢) لظیٰ ده اوبیا (٣) حطمه اوبیا (٤) سعیر اوبیا (٥)سقر اوبیا(٦) جحیم اوبیا(٧) هاویه۔ قرآن کریم کښ چه کوم سورة او ایت کښ دَ دے نه یوطبقه ذکرشویده نو ورسره دَ هغے مناسب اهل معصیت هم ذکردی هغوی ته مقسوم وئیلے کیږی۔

[٤٥نه تر٤٨] پورے په دے ایتونوکښ بشارت دے هغه چا ته چه ځان ئے بچ کړے دے دَ تابعداریٔ دَ ابلیس نه اوپه دے بشارت کښ لس امورذکردی﴿بِسَلٰمٍ﴾ سلامونه به وی دَطرف دَ اللّٰه تعالیٰ اودَملائکونه په دوی باندے په وخت دَ داخلیدلو کښ﴿اٰمِنِيْنَ﴾ ټول عمربه په امن وی دَ هرے یرے اوویستلودَ جنت نه اودَ ختمیدلودَ لذتونونه اودَ فنا اومرګ نه ﴿غِلٍّ﴾ دَ دے نه مراد هغه خفګان دے بے اختیاره چه پیداکیږی په زړونودَ انسانانوکښ دَ وجے دَ تفاوت دَ مرتبونه۔

[٤٩،٥٠] هرکله چه مخکښ تخویف اوبشارت تیرشونوپه دے دوو ایتونوکښ تتمه دَهغے ده په طریقه دَلف نشرغیرمرتب اوپدیکښ تنبیه ده چه ایمان به په مینځ دَ رجاء اودَخوف کښ وی یعنی اول ایت کښ رجاء اوپه دویم ایت کښ خوف دے۔

[٥١] دَ دے ایت نه ترآخردَ سورة پورے دریم باب دے پدیکښ اول قصه دَ میلمنو دَ ابراهیم(علیه السلام) ده چه تمهید دے دپاره دَ واقعے دَ لوط(علیه السلام) بیا ذکردے دَ نزول دَ عذاب الٰهی په دریوقومونوتیرشووباندے، چه قوم دَ لوط(علیه السلام) اوقوم دَ صالح(علیه السلام) اوقوم دَ شعیب(علیه السلام) وو۔ اودا درے ئے ځکه خاص کړه چه قوم دَ لوط(علیه السلام) اودَ شعیب(علیه السلام) دَ حجازپه لارکښ واقع وو اوقوم دَ صالح(علیه السلام) هم دوی ته نزدے وو اوبیا ذکرکړے دے عذاب دَمقتسمینوپه (٩٠) ایت کښ، اوعذاب دَ مستهزئینوپه (٩٥)کښ، اوبیا ذکرکړیده تسلی دَ نبی(ﷺ) او تشجیع په تبلیغ باندے په بیان دَلس آدابوسره۔ اواختتام دَ سورة په دعوت دَ توحید سره دے دَ دے ایت(٥١)

لَا تَوْجَلْ إِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلٰمٍ عَلِيْمٍ ﴿٥٣﴾ قَالَ أَبَشَّرْتُمُوْنِيْ عَلٰى أَنْ مَّسَّنِيَ الْكِبَرُ فَبِمَ تُبَشِّرُوْنَ ﴿٥٤﴾ قَالُوْا بَشَّرْنٰكَ بِالْحَقِّ فَلَا تَكُنْ مِّنَ الْقٰنِطِيْنَ ﴿٥٥﴾ قَالَ وَمَنْ يَّقْنَطُ مِنْ رَّحْمَةِ رَبِّهٖٓ إِلَّا الضَّآلُّوْنَ ﴿٥٦﴾ قَالَ

مه یریره یقیناً مونږ تاله زیرے درکړو په هلك پوهه سره (٥٣) اُوئیل هغه ایا زیرے راکوئ ماته سرهٔ دَ دے چه رسیدلے دے ماته بوډا والے پس په څه څیز ماله زیرے راکوئے تاسو (٥٤) دوی اُوئیل زیرے درکړو مونږ تاله په یقینی څیز پس مه کیږه ته دَ ناامیدئ کؤونکونه (٥٥) اُوئیل دهٔ اوناامیدی نه کوی دَ رحمت دَ رب نه مګر ګمراهان (٥٦) اُوئیل دهٔ

نه ترآیت شپیته پورے واقعه دَ میلمنودَ ابراهیم علیه السلام ده دَدے ربط ماقبل سره دا دے چه په واقعه دَ ابراهیم علیه السلام او راتلونکو قصو کښ بشارت دے مؤمنانوته دَ اهلاك دَ مجرمانواوتخویف دے مجرمانوته نواول دَ(٤٩)سره اودویم دَ(٥٠)سره متعلق شول۔ اودَ دے قصے په تقدیم کښ یوحکمت دا دے چه دغه میلمانه ملائك بیا راغلی وودَ قوم دَ لوط علیه السلام دَ هلاکت دَ پاره۔ اودویم حکمت دا دے چه په اهلاك دَ قوم دَ لوط علیه السلام سره ابراهیم علیه السلام ته څه خفګان رسیدلونودَ هغے دَ زائل کولودَ پاره ملائك اول هغه له راغلل اوبشارت ئے ورکړو۔ اوپدے ایت کښ ضیف (میلمنو)اطلاق په ملائکوباندے دَ دے وجے نه شویدے چه ابراهیم علیه السلام په هغوی باندے ګمان کړے وودَ میلمنو۔

[٥٢] پدے ایت کښ اختصارکړے شویدے ځکه چه جواب دَسلام دلته نه دے ذکرکړے هاں ذکرکړے شویدے په سورهٔ هود (٦٩)کښ اوسورهٔ ذاریات ایت (٢٥)کښ، دارنګ په دیکښ نه دی ذکرکړی دَ ابراهیم علیه السلام طعام لره دَ هغوی نه خوړل چه هغه سبب دَخوف وو اوپه دے ایت کښ دلیل دے چه انبیاء په غیب باندے نه پوهیږی ځکه چه مقصد پدیکښ بشارت دے اوهغه ئے ذکرکړیدے۔

[٥٣] دَ ﴿بِغُلٰمٍ﴾ نه مراد اسحق علیه السلام دے او ﴿عَلِيْمٍ﴾ نه مراد نبوت دے۔

[٥٤] دا تعجب دَ ابراهیم علیه السلام په اعتباردَعام عادت سره دے نه دَ انکاردَ قدرت دَ اللّٰه تعالیٰ نه ﴿فَبِمَ تُبَشِّرُوْنَ﴾ په دے کښ استفهام حقیقی دے یعنی بشارت په څه طریقه دے یعنی بوډاوالے به زائل کیږی اوکه په داسے حال به وی۔

[٥٥] دَحق نه مراد یقینی شے دے چه په هغے کښ څه شك نه وی اوچونکه تعجب کول سبب دَ ناامیدئے دے ظاهراً دَ دے وجے نه ملائکو اُوئیل ﴿فَلَا تَكُنْ مِّنَ الْقٰنِطِيْنَ﴾۔

[٥٦] یعني تعجب دَ ابراهیم علیه السلام دَ وجے دَ نا امیدئے نه نهٔ دے بلکه دَ وجے دَ ظاهری اسبابونه دے۔ اوناامیدی دَ اللّٰه دَ رحمت نه په دے وجه ګمراهی ده ځکه چه نا امیدی کؤونکے دَ رحمت دَ اللّٰه نه جاهل وی اودَ قدرت دَ اللّٰه نه منکروی، اودارنګ ذکردے په سورهٔ یوسف ایت (٧٨) کښ۔

فائده: سورهٔ یوسف کښ دَ ایاس سره کفرذکرکړیدے اوپه دے سورهٔ کښ دَ قنوط سره ضلال ذکرکړے دے دَ دے حکمت دادے چه ایاس دَ زړه نا امیدئ ته وائی اوکفرهم فعل دَ زړه دے اوقنوط هغه نا امیدئ ته وائي چه دَ هغے اثردَ خفګان په مخ باندے ښکاریږی، اوضلال هم په ظاهری ګمراهئی کښ استعمالیږی نوپه الفاظو کښ دَیو بل سره پوره مناسبت دے۔

فَمَا خَطْبُكُمْ اَيُّهَا الْمُرْسَلُوْنَ ﴿۵۷﴾ قَالُوْٓا اِنَّآ اُرْسِلْنَآ اِلٰى قَوْمٍ مُّجْرِمِيْنَ ﴿۵۸﴾ اِلَّآ اٰلَ لُوْطٍ ؕ اِنَّا لَمُنَجُّوْهُمْ
اَجْمَعِيْنَ ﴿۵۹﴾ اِلَّا امْرَاَتَهٗ ۙ قَدَّرْنَآ ۙ اِنَّهَا لَمِنَ الْغٰبِرِيْنَ ﴿۶۰﴾ فَلَمَّا جَآءَ اٰلَ لُوْطِ ِۨ الْمُرْسَلُوْنَ ﴿۶۱﴾ قَالَ
اِنَّكُمْ قَوْمٌ مُّنْكَرُوْنَ ﴿۶۲﴾ قَالُوْا بَلْ جِئْنٰكَ بِمَا كَانُوْا فِيْهِ يَمْتَرُوْنَ ﴿۶۳﴾ وَاَتَيْنٰكَ بِالْحَقِّ وَاِنَّا لَصٰدِقُوْنَ ﴿۶۴﴾

پس کوم لوئے کار دے ستاسو اے رالیږلے شوو(۵۷) اُوئیل دوئ یقیناً مونږ رالیږلے شوی یو مجرم قوم ته(۵۸) سیوا دَکورنئ دَ لوط(علیہ السلام) نه یقیناً بچ کوُوم دوی ټولو لره (۵۹) مګر ښځه دَ ده مقرر کړیده مونږ چه یقیناً دابه دَپاتے خلقو نه وی په عذاب کښے (۶۰) پس هرکله چه راغلل کورنئ دَ لوط(علیہ السلام) ته رالیږلے شوی (۶۱) اُوئیل دهٔ یقیناً تاسو قوم ئے نا آشنا (۶۲) دوئ اُوئیل بلکه راوړے دے مونږ تاته هغه شے چه دوئ پکښے شك کوُو(۶۳) او راوړے دے مونږ تاته هغه یقینی خبرد عذاب او یقیناً مونږ رښتیا وایو(۶۴)

[۵۷] هرکله چه ملائکو ابراهیم(علیہ السلام) ته بشارة ورکړوپه ولد سره نوحقیقت دا دے چه دَ دے بشارت دپاره یوملك هم کافی وو۔ لیکن چونکه دِیرملائیك چه راغلی دی نومعلومیږی چه دَ دوی په ذمه غټ کارشته دے نوابراهیم(علیہ السلام) ځکه دا تپوس اوکړوځکه چه خطب په غټه حادثه کښ استعمالیږی۔

[۵۸،۵۹،۶۰] پدے ایتونوکښ دَملائکودوه مقصدونه ذکرکړے شوی دی اول اهلاك دَمجرمانوچه هغه صیحه اوکانړی رالیږل دی اوکلی دَ قوم لوط(علیہ السلام) پورته کول او اُلټه راغورزول، دا ټول په ذریعه دَ دے ملائیکوکړے شوی وودویم مقصد دَ دوی بچ کول دی دَ لوط(علیہ السلام) اودَکورنئ دَ هغه بغیرد ښځے دَهغه نه۔

فائده۱: که مشرکان دا شبه اوکړی چه ملائك نجات ورکولے شی دَعذاب اودَمصیبت نه نوانبیاء او اولیاء به هم ورکولے شی، جواب دا دے چه ﴿اِنَّا لَمُنَجُّوْهُمْ﴾ دَ ﴿اِنَّآ اُرْسِلْنَآ﴾ دَلاندے داخل دے مطلب دا دے چه مونږقاصدان یواوداپیغام دَاللّٰه تعالیٰ دے﴿اِنَّا لَمُنَجُّوْهُمْ﴾ ځکه رسول خپل کلام نشی ذکرکولے بلکه دَمرسل پیغام به ذکرکوی اودلیل په دے باندے لفظ دَ﴿قَدَّرْنَآ﴾ دے ځکه چه تقدیرد ملائکوپه اختیارکښ نه دے۔

نحوی فائده۲: پدے کلام کښ دوه استثناء دی، نودویمه استثناء دَ اولے استثناء نه استثناء ده یعنی قوم مجرمان به هلاکیږی مګرآل لوط(علیہ السلام) به بچ وی اوآل لوط(علیہ السلام) به ټول بچ کیږی مګر ښځه به ئے نه بچ کیږی لکه دا قول دَ یوتن لَهٗ علی عشرة دارهم الا اربعة الادرهما، دَ فلانکی په ما باندے لس روپئی دی مګرځلوراوپه ځلور وکښ یوکمه ده یعنی درے روپئی دَ لسونه کمے دی نودا استثناء من المستثنیٰ ده دا دوه استثناء دَ یومستثنیٰ منه نه دی۔ ځکه چه هغه جائزنه ده په عربیت کښ۔

[۶۱ نه تر۶۴] پورے دا دلیل دے چه لوط(علیہ السلام) هم په غیب باندے علم نه لرلو﴿بِمَا كَانُوْا فِيْهِ يَمْتَرُوْنَ﴾ دَ دے نه مراد عذاب دے چه دوی دَ هغے په نزول کښ په ځان باندے شك کوؤ یا مراد دَ دینه مسئله دَ توحید ده چه دوی په هغے کښ شك کوؤاو کلام کښ تقدیر دے معنیٰ دا ده چه عقاب ما کانویمترون او دَ ﴿بِالْحَقِّ﴾ نه مراد رښتینے خبر دے یا عذاب مراد دے ﴿وَاِنَّا لَصٰدِقُوْنَ﴾ دَ دِیرتاکید دَپاره دے۔

فَاَسْرِ بِاَهْلِكَ بِقِطْعٍ مِّنَ الَّيْلِ وَاتَّبِعْ اَدْبَارَهُمْ وَلَا يَلْتَفِتْ مِنْكُمْ اَحَدٌ وَّامْضُوْا حَيْثُ تُؤْمَرُوْنَ ﴿٦٥﴾
وَقَضَيْنَآ اِلَيْهِ ذٰلِكَ الْاَمْرَ اَنَّ دَابِرَ هٰٓؤُلَآءِ مَقْطُوْعٌ مُّصْبِحِيْنَ ﴿٦٦﴾ وَجَآءَ اَهْلُ الْمَدِيْنَةِ
يَسْتَبْشِرُوْنَ ﴿٦٧﴾ قَالَ اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ ضَيْفِيْ فَلَا تَفْضَحُوْنِ ﴿٦٨﴾ وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَلَا تُخْزُوْنِ ﴿٦٩﴾ قَالُوْٓا اَوَلَمْ
نَنْهَكَ عَنِ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٧٠﴾ قَالَ هٰٓؤُلَآءِ بَنٰتِيْٓ اِنْ كُنْتُمْ فٰعِلِيْنَ ﴿٧١﴾ لَعَمْرُكَ اِنَّهُمْ لَفِيْ سَكْرَتِهِمْ يَعْمَهُوْنَ ﴿٧٢﴾

پس بوځه کورنئ خپله په یوټکړه د شپے کښے او روستوځه په دوئ پسے اونه دے ګوری شاته ستاسونه هیڅوك اوځئ هغه ځائے ته چه تاسوته حکم کیدے شی(٦٥) اوفیصله اولیږله مونږ دهٔ ته د دے خبرے چه جړے د دے کسانو به پریکړے شی په وخت د صبا کښ (٦٦) او راغلل کلی والا خوشحالیدل(٦٧) اُوئیل لوط(علیه السلام) یقیناً دامیلمانه ځما دی پس مه شرمنده کوئ مالره (٦٨) اویره کوئ د اللّٰه تعالیٰ نه او مامهٔ رسوا کوئ (٦٩) اُوئیل دوئ آیاته نه ئے منع کړے مونږ د تعلق ساتلو د خلقونه (٧٠) اُوئیل هغه دا (بیبیانے ستاسو) ځما لونړه دی که تاسو څه حاجت پوره کول غواړئ (٧١) قسم دے ستاپه ژوند یقیناً دوی په خپله نشه کښے دی پریشانه (٧٢)

[٦٥] په دے کښ د نجات د پاره ځلورأصول ذکرشوی دی۔ (١) د شپے تلل (٢) د امیراومشرد ټولوملګرونه روستوتلل چه هغه د هغوی دَحال نه خبروی اوچه څوك پاتے نشی(٣) اودَشاته کتلونه منع کول ځکه چه په روستو کتلوسره مقصد ته په رسیدلوکښ سستی پیدا کیږی او (٤) هغه ځائے ته هجرت کول چه اللّٰه تعالیٰ د کوم ځائے امرکړے وی۔او هغه زمکه د شام وه۔

[٦٦] ﴿دَابِرَ﴾ کښ اشاره ده چه عذاب به په دوی باندے احاطه کوی هیڅوك د هغے نه بچ کیدے نشی۔ اوداسے ذکرپه سورة انعام (٤٥) کښ دَعاموقومونوپه باره کښ ذکرشویدے۔

[٦٧] د دے سورة په دے قصّه کښ د ترتیب لحاظ نهٔ دے کړے شوے ځکه چه د دے قوم راتلل په میلمنو پسے اول وو اوبیا د لوط(علیه السلام) د طرف نه دَهغوی دفعه کول ووپس د هغے نه د ملائکو لوط(علیه السلام) ته خبر ورکول وو۔ نودَ دے یووجه دا ده چه په دے واقعه کښ اول مقصد بشارت دے مؤمنانوته نوهغه ئے اول ذکرکړواوبیادویم تخویف دے نوهغه ئے روستوذکرکړیدی دویمه لفظی وجه ده هغه داچه ﴿وَجَآءَ اَهْلُ الْمَدِيْنَةِ﴾حال دے د بصریانوپه نیزپه قد(پټ)سره اودَکوفیانوپه نیزبغیرقدنه هم صحیح دے او ﴿وَاوٗ﴾ هم په ترتیب باندے دلالت نه کوی۔

[٦٨،٦٩] ﴿فَلَا تَفْضَحُوْنِ﴾ فضیحت معنیٰ دا ده چه د میلمنوپه مخکښ مالره مهٔ شرمنده کوئ ځکه چه د میلمنو بے عزتی د کوربه شرمول دی وَلَا تخزون اوخزی معنیٰ دا ده چه مالره مهٔ ذلیل کوئ ځکه چه د یومشر خبره نهٔ منل دا د هغه تذلیل او سپکول دی ﴿وَاتَّقُوا اللّٰهَ﴾ کښ مراد د اللّٰه تعالیٰ اود رسول خبره منل دی۔

[٧٠] دا د هغه قوم ډیره بے انتها بے حیائي وه اومطلب ئے دا دے چه مونږته د خلقود میلمستیا نه منع کړے ئے یا داچه د خلقو په باره کښ د سفارش کولونه مونږته منع کړے ئے۔

[٧١] د دے تشریح په سورة هود کښ تیره شویده چه مراد د بنات نه زنانه د قوم دی چه پشان د لونړود لوط(علیه السلام) دی۔

فَاَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ مُشْرِقِيْنَ ﴿۷۳﴾ فَجَعَلْنَا عَالِيَهَا سَافِلَهَا وَاَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ حِجَارَةً مِّنْ سِجِّيْلٍ ﴿۷۴﴾
اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّلْمُتَوَسِّمِيْنَ ﴿۷۵﴾ وَ اِنَّهَا لَبِسَبِيْلٍ مُّقِيْمٍ ﴿۷۶﴾ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۷۷﴾

پس اونیؤو دوی لره یو هیبتناك اواز په وخت دَنمر خاته کښے (۷۳) پس اوګرځؤو مونږ بره طرف دَ دغه کلو لاندے طرف ته او را اوورول مونږ په دوئ باندے کانړی دَپخو کانړونه (۷۴) یقیناً په دے واقعه کښ ډیر عبرتونه دی فکر کؤونکو لره (۷۵) او یقیناً دا کلی پراته دی په نیغه لار باندے (۷۶) یقیناً په دے کښے لوئے دلیل دے دپاره دَ ایمان والو(۷۷)

[۷۲] غوره قول په دے کښ دا دے چه دا خطاب لوط علیه السلام ته دے اوسلسله دَکلام به نه منقطع کیږی۔ یعنی دَ دومره نصیحت باوجود په دوی باندے ځکه اثرنه کیدلوچه دوی په خپله نشه دَ جهل کښ رانده اونسکوردی ﴿لَعَمْرُكَ﴾ لام دَ قسم دَ پاره دے اوعمراوعُمریوشے دے لیکن دَ قسم په وخت کښ عین په زورسره استعمالیږی دا قسم دَ اللّٰه تعالیٰ دے اواللّٰه لره جائزدی اواختیاردے چه په هرځیزباندے قسم کوی لیکن مونږمکلف یوپه حکم دَ اللّٰه تعالیٰ اودَ رسول ﷺ باندے اودَ رسول ﷺ حدیث صحیح دے چه چاغیرَ اللّٰه تعالیٰ نه په بل چا باندے قسم اوکړونو یقیناً شرك ئیے اوکړو۔ نومونږ دَ دے حکم نه خلاف نه شوکولے دَ دے وجے نه دَ امام مالك نه قرطبی نقل کړی دی چه داسے مواضعوکښ لفظ خالق مقدرمراد دے۔ اوابراهیم نه نقل دی چه داسے قسم کول بندګانوباندے منع دی اوامام مالك نه نقل دی چه داسے قسمونه کمزوری خلق اوزنانه کوی نارینه نه کوی اودَ اللّٰه تعالیٰ په قول باندے قیاس نشی کیدلے۔

فائده: قسم دَ اللّٰه تعالیٰ په یوځیزباندے دَ تاکید اودَ شهادت په طورسره وی، داسے نه ده چه اللّٰه تعالیٰ دَ هغه ځیزنه یره کوی یا ترے نه امید ساتی۔ اللّٰه تعالیٰ دَ دینه پاك دے۔ دلته مراد دا دے چه اے نبی ستادا ژوند دَتکالیفوپه دے قوم کښ ګواه دے چه دا قوم جاهلان اوړانده دی۔ اوقسم دَ انسانانوپه څه ځیز باندے دَ دے وجے نه وی چه دَ هغے ځیزنه یره کوی یا ترے نه امید دَ نفع ساتی اودا عقیده ساتل په اللّٰه تعالیٰ پورے خاص دی دَ دے وجے نه چه انسان دَ اللّٰه تعالیٰ نه سیواپه بل چاباندے قسم اوکړی نوشرك اوکړی ﴿سَكْرَتِهِمْ﴾ نه مرادګمراهی دَ دوی ده ﴿يَعْمَهُوْنَ﴾ غفلت دے دَ مقصد دَ ژوند نه اوسرګردانی، پرشانی ده۔

[۷۴،۷۳] په دے آیتونوکښ درے عذابونه په هغه قوم باندے ذکرکړے شویدی۔ سوال په سورة هودکښ ذکردی چه وخت دَ عذاب دَ دوی وخت دَ صبا دے؟ جواب دا دے چه ابتداء دَعذاب په وخت دَ صبا کښ ده اوپه وخت دَ نمر ختلوکښ دَ دوی معامله ختم کړے شوه ﴿وَاَمْطَرْنَا﴾ واؤدَ ترتیب دَپاره نه دے نوباران دَکانړو مخکښ وو اوکلی التهه کول روستو وو او دا هم دَ قدرت دَ اللّٰه تعالیٰ نه لرے نه ده چه التهه کړے شوو کلودَ پاسه ئیے دَکانړوباران کړے وی۔

[۷۵] ﴿لِلْمُتَوَسِّمِيْنَ﴾ متوسمین: هغه خلق وی چه ځیزته نظرکوی په علامتونوسره اوپه هغے کښ فکرکوی۔ چونکه په هغه علاقه کښ پس دَعذاب نه نشانات وونوځکه ئیے متوسمین ذکرکړواوپه فکرکولوسره عبرتونه ډیرحاصلیږی ځکه آیت ئیے جمع ذکرکړو۔

[۷۶] ﴿لَبِسَبِيْلٍ مُّقِيْمٍ﴾ نه هغه لارمراد ده چه دَحجازنه دَبحرمیت په لارشام (سوریا) ته رسی اودَ دے

وَاِنْ كَانَ اَصْحٰبُ الْاَيْكَةِ لَظٰلِمِيْنَ ﴿۷۸﴾ فَانْتَقَمْنَا مِنْهُمْ ۘ وَاِنَّهُمَا لَبِاِمَامٍ مُّبِيْنٍ ﴿۷۹﴾ وَلَقَدْ كَذَّبَ
اَصْحٰبُ الْحِجْرِ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۸۰﴾ وَاٰتَيْنٰهُمْ اٰيٰتِنَا فَكَانُوْا عَنْهَا مُعْرِضِيْنَ ﴿۸۱﴾ وَكَانُوْا يَنْحِتُوْنَ
مِنَ الْجِبَالِ بُيُوْتًا اٰمِنِيْنَ ﴿۸۲﴾ فَاَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ مُصْبِحِيْنَ ﴿۸۳﴾ فَمَآ اَغْنٰى عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿۸۴﴾

او یقیناً بنړ (جنګئ) والا وؤ ډَظالمانونه (۷۸) پس بدله واخسته مونږ ډَ دوی نه او یقیناً دا دواړه کلی په مشهوره لار باندے دی(۷۹) او یقیناً دروغژن کړی وؤحجر والو پیغمبرانو لره(۸۰) او ورکړی ؤو مونږ دوی ته معجزات پس ؤو دوی ډَ هغے ته مخ ګرځوونکی (۸۱) او ؤو دوئ چه کنستل به ئے ډَ غرونونه کوتے اوبے غمه به اوسیدل (۸۲) پس اونیول دوئ لره هیبتناکے چغے په وخت ډَصبا کښے (۸۳) پس وانه ړؤو ډَ دوی نه عذاب هغه عملونو چه دوی کول(۸۴)

ذکرپه سورة صافات (۱۳۷) کښ دے۔

[۷۷] ډَ مؤمنانوډَ پاره یوآیت هم کافی وی ځکه ئے مفرد ذکرکړو۔

[۷۸] دا دویمه نمونه ډَ عذاب ده اودا قوم ډَ شعیب علیه السلام وو اوایکه ګنړواو ډیرو وَنوته وائي یعنی بنړوالا۔ غوره قول دا دے چه روستوډَ هلاکت ډَ اهل مدین نه شعیب علیه السلام ایکه ته اولیږلے شو اوپه دوی باندے عذاب ډَیوم الظله راغلے دے اوشعیب علیه السلام ډَ دے قوم ډَ جنس نه نه ووبلکه ډَمدین والا ډَ قوم نه ووډَ دے وجے نه مدین سره لفظ ډَ اخوهم ذکرکړے شویدے اوایکه سره اخوهم نه دے ذکرکړے شوے لکه سورة شعراء (۱۷۶) نه تر(۱۸۹) پورے ﴿لَظٰلِمِيْنَ﴾ ډَ هغوی ظلمونه په سورة اعراف او هود او شعراء کښ ذکرکړیدی۔

[۷۹] ﴿لَبِاِمَامٍ﴾ نه مراد هغه لار ده چه ډیرخلق په هغے باندے تلل کوی یعنی لویه لار۔کلی ډَ قوم لوط علیه السلام اوډَ قوم ډَ شعیب علیه السلام ډَ مکے والوپه لویه لارکښ واقع وؤکله چه دوی به شام ته سفرکوؤنو هغه به ئے لیدل۔

[۸۰] دا دریمه نمونه ډَعذاب ذکرکوی ډَ قوم ډَ صالح علیه السلام اواوس ډَهغوی مقام په مدائن صالح سره مشهوردے ډَ مدینے او ډَتبوك په مینځ کښ واقع دے۔ حجرپه ډیرو معانوکښ استعمالیږی۔ دلته مراد ډَ هغے ته مرکزی ښارډَثمودیانو دے﴿وَلَقَدْ كَذَّبَ﴾په دے لفظ کښ سبب ډَعذاب ذکردے ﴿الْمُرْسَلِيْنَ﴾ تکذیب ډَیو رسول پشان ډَ تکذیب ډَ ټولورسولانودے۔

[۸۱] آیات ئے جمع راوړی دے ځکه چه په ناقه (اوښه) ډَ صالح علیه السلام کښ ډیرآیات وؤ۔ ډَګټ نه راوتل، زربچے پیدا کیدل، ډیرے اوبه څښکل ډیرپئی کول اوغټ والے ډَبدن ډَ هغے۔ یا داچه سیوا ډَ اوښے نه نورے معجزے ورکړے شویوے اګرچه مونږته نه دی بیان کړے شوی۔

[۸۲] پدے کښ ډَ دوی دنیاپرستئے ته اشاره ده ﴿اٰمِنِيْنَ﴾ کښ اشاره ده چه ډَ اللّٰه تعالیٰ ډَعذاب نه هیڅ یره په دوی کښ نه وه۔

[۸۳] ډَ صبا په وخت کښ مجرمان خلق غافل وی نودغه وخت کښ ناګاهانه عذاب راځی۔

[۸۴] ﴿مَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ﴾ نه مراد ډَ هغوی پاښهٔ مکانونه اوقلعه ګانے دی یا اعمال شرکیه ډَ هغوی عبادات اونذرونه ډَ غیراللّٰه وغیره اوتکذیب ډَ رسول اوقتل ډَ اوښے وغیره اودارنګ په سورة هود (۱۰۱)

وَ مَا خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَآ اِلَّا بِالْحَقِّ ؕ وَاِنَّ السَّاعَةَ لَاٰتِيَةٌ فَاصْفَحِ الصَّفْحَ
الْجَمِيْلَ ﴿۸۵﴾ اِنَّ رَبَّكَ هُوَ الْخَلّٰقُ الْعَلِيْمُ ﴿۸۶﴾ وَلَقَدْ اٰتَيْنٰكَ سَبْعًا مِّنَ الْمَثَانِيْ وَالْقُرْاٰنَ الْعَظِيْمَ ﴿۸۷﴾
لَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ اِلٰى مَا مَتَّعْنَا بِهٖۤ اَزْوَاجًا مِّنْهُمْ وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ
لِلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۸۸﴾ وَقُلْ اِنِّيْۤ اَنَا النَّذِيْرُ الْمُبِيْنُ ﴿۸۹﴾ كَمَاۤ اَنْزَلْنَا عَلَى الْمُقْتَسِمِيْنَ ﴿۹۰﴾ الَّذِيْنَ جَعَلُوا الْقُرْاٰنَ

اونه دی پیداکړی مونږ اسمانونه اوزمکه او دَ دے په مینځ کښ چه څه دی مګردَ حق ښکاره کولو دپاره او یقیناً قیامت خامخا راتلونکے دے پس مخ اوګرځوه په ښه طریقه مخ ګرځول (۸۵) یقیناً ستا رب هغه پیدا کؤونکے دے پوهه دے په هرڅه باندے(۷۶) او یقیناً درکړیدی مونږ تاته اُوه آیاتونه چه بیابیا لوستلے کیږی او قرآن لوئے شان والا(۸۷) اومه اوږدوه سترګے خپلے طرف دهغه مالونوته چه مونږ پرے مزے ورکړیدی مختلفو قسمو کافرانوته دَ دوی نه اومه خفه کیږه په دوئ باندے اوکوز کړه وزر خپل مؤمنانوته (۸۸) او اُوایه یقیناً څه ویره درکؤونکے ښکاره یم (۸۹) لکه څنګه چه مونږ عذاب نازل کړو په تقسیم کؤونکو باندے (۹۰) هغه کسان چه ګرځولے دے قرآن لره

او سورة احقاف (۲۶) کښ هم دی۔

[۸۵] داعلت دے دَپاره دَعذاب دَ تیروشوو قومونویعنی اللّٰه تعالیٰ آسمانونه او زمکه دَعدل دَپاره پیداکړی دی اودَعدل تقاضا داده چه مجرمانواومشرکانوته عذاب ورکړے شی اوحق په معنیٰ دَعدل سره دے اودا عذاب صرف په دنیاکښ نه دے بلکه په قیامت کښ هم دے ځکه ورپسے ئے اوفرمائیل ﴿وَاِنَّ السَّاعَةَ لَاٰتِيَةٌ﴾ یا مراد دَحق نه توحید دے یعنی داموجودات ټول په توحید باندے دلیل دے نوولے دا خلق انکارکوی۔ بیا دَ دے ایت نه لس اداب دَمبلّغ دپاره بیانیږی اودا تسلّی ده نبیﷺ ته اوذکرَ اول ادب دے۔ صفح جمیل دیته وائی چه مخ اوګرځولے شی اوبراء ة اوکړے شی خاص دَ اللّٰه تعالیٰ دَپاره بغیرَ دنیادَ مقصدونونه۔ اوداسے په سورة مزمل آیت(۱۰)کښ هم دی اومراد دَ دے نه دا دے چه معافی اوکړه دَدوی نه په خپلو حقوقوکښ نودا منسوخ نه دے اومراد دَ دے نه دا دے چه دَمشرکینونه براء ة اوکړه اودا هروخت فرض دی دَ نسخ احتمال نه لری۔

[۸۶] دا دلیل دے دَ تیرشوے جملے وَاِنَّ السَّاعَةَ لَاٰتِيَةٌ دپاره ځکه چه خالقیت دَ اللّٰه تعالیٰ هرڅیزلره سره دَعلم نه په هرڅیزباندے ښکاره دلیل دے چه اللّٰه تعالیٰ دوباره ژوندی کول کولے شی۔

[۸۷] دا علت دے دَ فَاصفح دَ پاره اودارنګ دَ روستو(لاتمدن) دَ پاره۔ یعنی دَ قرآن والودَپاره لازم ده چه دَمشرکینونه براء ة اوکړی ﴿سَبْعًا مِّنَ الْمَثَانِيْ﴾پدیکښ غوره قول دا دے چه مراد دَ دے نه سورة فاتحه ده ځکه داپه حدیث صحیح او مرفوع دَ بخاری دَ ابوسعید بن المعلی کښ راغلی دی او مثانی ورته ځکه وائی چه سورة فاتحه په هر رکعت کښ دَ ټولو مونځونونه بیابیا لوستل کیږی ﴿وَالْقُرْاٰنَ الْعَظِيْمَ﴾ دَ دے نه هم مراد سورة فاتحه ده اودا هم په صحیح حدیث کښ راغلی دی ځکه چه دا سورة مشتمل دے په لویومضامینودَ قرآن پاك باندے۔

[۸۸] په دے آیت کښ ذکرَدریوآدابودے دپاره دَمبلغ۔ اول داچه دَ دنیا سامانونوته او دنیا پرستو خلقوته

عِضِيْنَ ﴿۹۱﴾ فَوَرَبِّكَ لَنَسْـَٔلَنَّهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿۹۲﴾ عَمَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۹۳﴾ فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ وَاَعْرِضْ

پوټی پوتی (۹۱) پس قسم دے په رب ستا خامخا به تپوس اوکړو دَ دے ټولونه (۹۲) دَهغه عملونو چه دوئ کول (۹۳) پس صفاصفا بیان کړه هغه چه تاته حکم کړے شویدے دَهغے دَ بیانولواو مخ اوګرځوه

مهٔ پسخیږه ﴿اَزْوَاجًا﴾ هغه مالداروخلقوته وئیل کیږی چه دَیوبل سره مشابه وی په مالدار ئیے کښ اودارنګ په سورة طٰهٰ (۱۳۱) کښ دی۔ اوبل ادب دا دے که چرے دا مشرکان دنیاپرست ایمان نه راوړی نوپه دوی باندے مه خفه کیږه اومراد دَ دے نه داسے حزن اوخفګان دے چه مشغوله کوی انسان لره دَ دعوت اودَ تبلیغ نه۔ اوبل ادب دا دے چه دَ ایمان والوسره نرمی اوشفقت کوه اوځان ته ئیے رانزدے کوه لکه ځنګه چه مرغئے وزرے اوغړوی اوخپل بچی دَ وزرودَ لاندے پټ کړی اوداسے په سورة شعراء (۲۱۵) کښ هم دی۔

[۸۹] په دے ایت کښ ذکردَ بل ادب دے ﴿اَلْمُبِيْنُ﴾ یعنی په انذارکولوکښ هیڅ تلبیس اوحق پټَوَل اودَچارعایت کول نیشته۔

[۹۰] په دے ایت کښ دَ تخویف دنیوی یومثال دے چه په مکے والوکښ وو اومعنیٰ دَ آیت دا ده چه یره درکوم دَعذاب چه په شانته دَهغے عذاب به وی چه نازل کړے وومونږپه مقتسمین باندے۔ په دے کښ غوره قول دا دے چه داشپارس کسان وواوولیدبن مغیره مقررکړی ووپه وخت دَ موسم دَحج کښ اوتقسیم کړے وے دوی لارے دَ مکے اوخلق ئیے منع کول دَ نبی ﷺ نه نواللّٰه تعالیٰ په دوی عذاب را اولیږو۔ اومقتسمین ورته ځکه وائي چه دوی تقسیم کړے وے لارے دَ مکے یا دا چه دوی قسمونه کړی وو۔

[۹۱] ټکړے کول دَ قرآن دا دی چه ایمان لری په هغے باندے چه دَ دوی دَ تقاضا موافق وی اوانکار کوی دَ باقی نه یا دَ ټکړے کولودا مطلب دے چه دوی مختلفے فتوے کولے په باره دَ قرآن کښ کله به ئیے وئیل چه دا دروغ دی اوکله به ئے وئیل چه دا سحر دے اوکله به ئیے وئیل چه دا شعردے اوکله به ئیے وئیل چه کهانت دے۔

[۹۳،۹۲] صحیح قول دا دے چه تپوس کول په ورځ دَ قیامت عام دی دَ امتونونه اودَ انبیاؤاودَ اقوالواواعمالو ټولوپه باره کښ به پخننه وی په دلیل دَسورة اعراف(٦) باندے۔

فائده ۱: که شبه اوکړے شی چه سورة قصص آیت (۷۸) اوسورة رحمٰن آیت (۳۹) کښ عدم دَسوال ذکرشویدے نودا تعارض دے ظاهراً۔ جواب په ځلورروطریقوسره دے اوله طریقه دا ده چه یونفس عمل کول اونه کول دی اودویم باعث دَعمل کولواوطریقه دَعمل کولوده نودَ اول تپوس نشی کیدے اودَ دویم تپوس به کیدیشی په لِمَ اوکیف سره دویمه طریقه دا ده چه تپوس په دوه قسمه دے یودَپاره دَخبر حاصلولو اودویم دَپاره دَزورنے ورکولو نودَ اول قسم تپوس نشی کیدے اودَ دویم قسم به کیدیشی، اودریمه طریقه دا ده چه په قیامت کښ مختلف ځایونه دی نوپه بعضو ځایونوکښ تپوس کیدیشی اوپه بعضوځایونوکښ نه شی کیدے اودا جوابونه خازن ذکرکړیدی اوځلورمه طریقه دَجواب دا ده چه په سورة قصص او رحمٰن کښ مراد دا دے چه په باره دَ ګناه دَ یوتن کښ دَ بل کس نه تپوس نشی کیدے او په دے سورة کښ مقصد

عَنِ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿۹۴﴾ اِنَّا كَفَيْنٰكَ الْمُسْتَهْزِءِيْنَ ﴿۹۵﴾ الَّذِيْنَ يَجْعَلُوْنَ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ ۚ فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ ﴿۹۶﴾ وَلَقَدْ نَعْلَمُ اَنَّكَ يَضِيْقُ صَدْرُكَ بِمَا يَقُوْلُوْنَ ﴿۹۷﴾ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَكُنْ مِّنَ السّٰجِدِيْنَ ﴿۹۸﴾ وَاعْبُدْ رَبَّكَ حَتّٰى يَاْتِيَكَ الْيَقِيْنُ ﴿۹۹﴾

دَمشرکانونه (۹٤) یقیناً کافی یو مونږ تالره په مقابله دَ ټوقو کؤونکو کښے (۹۵) هغه کسان چه جوړوی دَ اللّٰه تعالیٰ سره بل مددګار پس زر ده چه دوئ به پوهه شی (۹۶) او یقیناً پوهیږو مونږ چه تنګیږی سینه ستا په هغه خبرو چه دوئ وائی (۹۷) پس تسبیح وایه سره دَستائینے دَ رب ستانه او همیشه یهٔ دَ سجده کؤونکو نه (۹۸) او بندګی کوه دَرب خپل تردے پورے چه راشی په تاباندے مرګ (۹۹)

دا دے چه دَ هرچانه دَخپل خپل عمل تپوس کیدے شی۔

فائده۲: تپوس کول عام دی دَ حساب کولونه محکه چه حساب دَبعض کسانوسره نه کیږی بے حسابه به جنت ته داخلیږی اوتپوس دَ هرچانه کیدے شی۔

فائده۳: دلته ئے ﴿يَعْمَلُوْنَ﴾ ذکرکړے دے دیکښ اشاره ده دے خبرے ته چه صرف قول ته اعتبارنیشته بلکه اعتبارعمل کولوته دے اګرچه دَ قول په باره کښ به هم سوال کیدے شی۔

[۹٤] پدیکښ دوه آداب ذکردی دَ اول مطلب دا دے چه بنه بنکاره کړه هغه مسئلے چه امرشویدے تاته دَتبلیغ دَ هغے اودویمه معنیٰ دا ده چه اوچوه زړونه دَ مشرکانوپه بیان دَ مسئلے دَ توحید اودریمه معنیٰ دا ده چه تس نس کړه دِله دَ مشرکانو په بیان دَ توحید سره۔ اودَ دویم ادب مقصد دا دے چه دَ مشرکانو دَټوقواومسخرواودَ هغوی دمقابلے کولوڅه پرواه مه لره۔


[۹۵] په دے آیت کښ تسلی ده نبی ته اودَ تخویف دنیوی بله نمونه ده یعنی﴿الْمُسْتَهْزِءِيْنَ﴾ پنځه کسان وودَ سردارانو دَمکے والونه اودوی هلاك کړے شوپه ورځ دَ بدریا هلاك کړی شویدی جدا جدا لکه چه خازن دَ هغے تفصیل ذکرکړیدے۔

[۹۶] دا اشاره وه سبب دَ استهزاء ته یعنی دوی شرك کوو په الوهیت کښ نو پدے وجه ئے استهزاء کوله په پیغمبر پورے۔

[۹۷] په دے آیت کښ تسلی ده نبی ﷺ ته او تنګوالے دَ زړه طبعًا او بے اختیاره دے۔

[۹۸،۹۹] په دے آیتونو کښ بیان دَ علاج دے دَ پاره دَ تنګوالی دَ زړهٔ اوپه دیکښ بیان دَ دریو آدابو دے او دارنګ دا دعوه دَ توحید ده په اختتام دَ سورهٔ کښ، او﴿الْيَقِيْنُ﴾ مراد دَ دے نه مرګ دے لکه سورهٔ مدثرآیت (٤۷) کښ اودارنګ په حدیث دَ عثمان ابن مظعون ﷺ کښ چه ذکردی (فَقَدْجَاءَهُ الْيَقِين) اودا امام بخاریؒ راوړے دے۔ اومرګ ته یقین محکه وئیلے کیږی چه راتلل دَمرګ په هرنفس باندے اتفاقی مسئله ده۔

فائده: ملحدینومتصوفؤدَ یقین نه معرفت دَ اللّٰه تعالیٰ اراده کړیدے نوپدے آیت سره ئے دلیل نیولے دے چه هرکله یوانسان په عبادت کولوسره معرفت ته او رسیږی نو دَهغه نه تکلیف شرعی ساقط شی او عبادت کول ورته معاف شی اودَ هغه ګناه ته ګناه نه وئیل کیږی، لیکن داکفراوضلال او جهل دے په یوځو وجهوسره اوله وجه دا ده چه انبیاء علیهم السلام اوصحابه کرام رضی اللّٰه عنهم بنه معرفت والاوو اوحال



(بقیه تفسیر دَ سورة الحجر) دا دے چه هغوی عبادت ترمرګه پورے نه دے پریخودے۔ او دویمه وجه دا ده چه دَ یقین نه وړاندے مرتبه دَشك وی اوپه حال دَ شك کښ هیڅ عبادت کول جائزنه وی ځکه چه بناء دَعباداتوپه نیت باندے ده اونیت اوشك یوبل سره منافی دی اودریمه وجه دا ده چه په دلیل دَ قرآن اوحدیث صحیح اودَ اقوالودَ سلفوسره ثابت ده چه مراد دَ یقین نه په دے آیت کښ مرګ دے اوهغه تفسیرچه دَحدیث اودَ اقوالودَسلفو نه مخالف وی نوهغه تحریف وی اوتحریف په قرآن کښ کفردے۔ ابن کثیراو الوسی په دوی باندے دَ دے ایت په تفیسرکښ پوره ردکړیدے۔

سورة النحل

ربط: دَدے سورة دَ سورة حجرسره دا دے چه په هغه سورة کښ تخویف وؤمنکرینودَ توحید ته نوپه دے سورة کښ رد دے په عذر باطل دَ مشرکانو۔

دعویٰ دَ دے سورة : رد دے په استدلال دَمشرکینودَپاره دَ جوازدَ شرك په مشیت دَ اللّٰه تعالیٰ سره چه ذکرشویدے په آیت (۳۵) کښ اورد دے په هغے باندے په لسوطریقوسره اوله طریقه شپږویشت (۲۶) عقلی دلیلونه چه تقسیمیږی څلوروقسموته، اول قسم دیارلس عقلی دلیلونه چه په هغے کښ پیدائش دَ لوئے لوئے څیزونوذکردے، دویم قسم درے عقلی دلیلونه دی چه په هغے کښ ذکرشویدے انقیاد دَ ټولومخلوقاتواللّٰه تعالیٰ ته۔ دریم قسم شپږعقلی دلیلونه دی چه په هغے کښ ذکرشویدے پیدائش دَ منافع دَ څیزونواوځلورم قسم څلورعقلی دلیلونه دی چه په هغے کښ تذکیردے دَ لویونعمتونو۔ اودویمه طریقه رد دے دَشرك په ټولواقساميعنی شرك فی العلم، شرك فی التصرف، اوشرك فی الدعاء اوشرك فی العبادة اوشرك په تحلیل اوتحریم کښ اودریمه طریقه رد دے په شرك باندے په دلیل نقلی اجمالی سره دَ ټولوانبیاؤ نه په آیت (۳۶) کښ اودَ ابراهیمؑ نه په آیت (۱۲۰) کښ اوځلورمه طریقه رد دے په مشرکینوپه ذکر دَ دریو مثالونوسره، اوپنځمه طریقه ذکردَ نزول دَعذاب دے په مشرکینوباندے په آیت (۱۱۲) کښ، اوشپږمه طریقه ترغیب دے پوره کولودَعهد دَاللّٰه تعالیٰ ته چه هغه توحید دے اویره ورکول دی دَ نقض عهدنه۔ اومه طریقه رد دَ شرك دے په دلیل وحی سره آیت(۵۱)کښ، اواتمه طریقه ذکردَ دعویٰ توحید دے په مختلفوتعبیراتوسره، اونهمه طریقه ذکردَ یولس اسماء حسنیٰ دے چه خاص دی په اللّٰه تعالیٰ پورے، اولسمه طریقه انکار دَ شرکاؤ دَ دوی دے دَ شرك دَ دوی نه په ورځ دَ قیامت په آیت (۸۶) کښ۔

خلاصه دَ دے سورة : دا ده چه دا سورة تقسیم دے اووبابونوته۔ اول باب تر آیت (۳۴) پورے دے په دے باب کښ اول دعویٰ دَ توحید ده بیا دیارلس عقلی دلیلونه دی چه په هغے کښ ذکرشویدے پیدائش دَ دیرش غټوغټوځیزونو دَ ایت (۳) نه تر(۱۶) پورے بیا رد دے په شرك فی التصرف او فی العلم اوفی الدعاء باندے سره دَ دعویٰ توحید نه تفریعاً دَ ایت (۱۷)نه (۲۲) پورے بیازجردے په انکاردَ قرآن سره په(۲۴) ایت کښ، اوتخویف اخروی دے په ایت (۲۵) کښ اودارنګ په(۲۷،۲۸،۲۹) کښ، اوتخویف دنیوی دے

اَتٰۤی اَمۡرُ اللّٰهِ فَلَا تَسۡتَعۡجِلُوۡهُ ؕ سُبۡحٰنَهٗ وَتَعٰلٰی عَمَّا یُشۡرِکُوۡنَ ۱ یُنَزِّلُ الۡمَلٰٓئِکَةَ بِالرُّوۡحِ مِنۡ اَمۡرِهٖ عَلٰی مَنۡ یَّشَآءُ مِنۡ عِبَادِهٖۤ اَنۡ اَنۡذِرُوۡۤا اَنَّهٗ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّاۤ اَنَا فَاتَّقُوۡنِ ۲ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضَ بِالۡحَقِّ ؕ تَعٰلٰی عَمَّا یُشۡرِکُوۡنَ ۳ خَلَقَ الۡاِنۡسَانَ مِنۡ نُّطۡفَةٍ فَاِذَا هُوَ خَصِیۡمٌ مُّبِیۡنٌ ۴ وَالۡاَنۡعَامَ خَلَقَهَا ۚ لَکُمۡ فِیۡهَا دِفۡءٌ وَّمَنَافِعُ وَمِنۡهَا تَاۡکُلُوۡنَ ۵ وَلَکُمۡ فِیۡهَا جَمَالٌ حِیۡنَ

دا دے را او رسیدوحکم دَ اللّٰه تعالیٰ پس تلوار ورباندے مه کوئ پاك دے اللّٰه تعالیٰ او اوچت دے دَهغے نه چه دوی ورسره شریك جوړوی(۱) نازلوی اللّٰه تعالیٰ ملائك په روح سره دَ وحے دَحکم خپل نه په هغه چا باندے چه اوغواړی دَ بندګانو خپلو نه چه ویره ورکړی په بیان دَ دے خبرے چه نیشته حقدار دَ بندګئے سیوا ځمانه پس ځمانه اویریږئ(۲) پیدا کړی دی آسمانونه او زمکه دپاره دَحق بشکاره کولو اوچت دے دَهغے نه چه دوی ورله شریك جوړوی (۳) پیدا کړے دے انسان لره دَنطفے نه پس دغه کس مقابله کؤونکے بشکاره دے (٤) او څاروی پیدا کړیدی اللّٰه تعالیٰ ستاسو دپاره په هغوئ کښے سامان دے دَګرمیدلو او فائدے دی او دَهغے نه تاسو خورئ (٥) اوتاسو لره په هغے کښے خائست دے کوم وخت

په ایت (۲٦) کښ او دارنګ په (۳٤،۳۳) کښ او بشارت دے په (۳۰، ۳۱،۳۲) کښ۔

تفسیر

[۱] دَ ﴿اَمۡرُ اللّٰهِ﴾ نه مراد عذاب دَ دنیا دے په سبب دَشرك سره یا قیامت دے، یا مراد دَ دے نه مسئله دَ توحید دَ اللّٰه ده چه په اخری جمله کښ ذکر ده اوبناء په اخری تفسیرباندے معنیٰ دَ ﴿فَلَا تَسۡتَعۡجِلُوۡهُ﴾ دا ده چه جلتی مه کوئے په انکارد دے مسئله بلکه فکراوکړئے په مضامینودَ دے سورة کښ بنا په اوله توجیه باندے ﴿سُبۡحَانَهٗ﴾ ذکردَتوحید دے دَپاره دَامن دَ عذاب دَ اللّٰه تعالیٰ نه۔

[۲] دا دلیل وحی دے اودَ روح نه مراد وحی ده اوبیان دَ مسئلے دَ توحید دے۔ پدیکښ اشاره ده چه مسئله دَ توحید دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه په واسطه دَ ملائکو رالیږلے شویده اودَ دے تبلیغ فرض کړے شویدے په هغه دلیلونوسره اوپه هغه طریقه سره چه په دے سورة کښ اللّٰه تعالیٰ ذکرکړیده ﴿اَنۡ اَنۡذِرُوۡۤا﴾ بدل اشتمال دے دَ الرُّوح نه اوانَّهٗ (دویم) تفسیردَ انذار دے۔

[۳] دا دلیل اول دے اودَ ﴿بِالۡحَقِّ﴾ نه مراد اظهاردَ توحید دے یامراد دَ دے نه حکمت دے ﴿تَعٰلٰی عَمَّا یُشۡرِکُوۡنَ﴾ په اول ایت کښ دَ عذاب ذکر وؤچه په یو وجے سره نقصان دے اوپه دویمے وجے سره اظهاردَ قدرت دَ اللّٰه تعالیٰ دے نوسبحانه په نسبت دَاول اوتعالیٰ په نسبت دَ دویم سره ذکرکړو اوپه دے کښ صرف صفت دَ خلق دَ عالم ذکرکړے دے چه دلالت کوی په علودَ اللّٰه تعالیٰ باندے۔

[٤] دادویم دلیل دے سره دَ زجرنه اوهم دارنګ ذکرشویدی په سورة یٰس ایت (۷۷) کښ لیکن سورة یٰس کښ خصومت په باره دَ انکاردَ قیامت کښ دے اودلته خصومت په انکاردَ توحید سره دے۔

[٥] هرکله چه ذکرشو پیدائش دَ مکان اودَ مکین نواوس ذکرکوی پیدائیش دَ هغے ځیزونوچه انسان هغے ته په ژوند تیرولو کښ محتاج دے اودا دریم عقلی دلیل دے ﴿دِفۡءٌ﴾ نه مراد هغه ځیزونه دی چه دَ هغے په اغوستلوسره ګرمائش حاصلیږی او سړی (یخنی) پرے دفع کیږی چه هغه جوړیږی دَ وړئ اودَ

تُرِيْحُوْنَ وَحِيْنَ تَسْرَحُوْنَ ۝٦ وَتَحْمِلُ اَثْقَالَكُمْ اِلٰى بَلَدٍ لَّمْ تَكُوْنُوْا بٰلِغِيْهِ اِلَّا بِشِقِّ الْاَنْفُسِ ؕ اِنَّ
رَبَّكُمْ لَرَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ۝٧ وَّالْخَيْلَ وَالْبِغَالَ وَالْحَمِيْرَ لِتَرْكَبُوْهَا وَ زِيْنَةً ؕ وَيَخْلُقُ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ۝٨
وَعَلَى اللّٰهِ قَصْدُ السَّبِيْلِ وَمِنْهَا جَآئِرٌ ؕ وَلَوْ شَآءَ لَهَدٰىكُمْ اَجْمَعِيْنَ ۝٩ ع هُوَ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ
مَآءً لَّكُمْ مِّنْهُ شَرَابٌ وَّمِنْهُ شَجَرٌ فِيْهِ تُسِيْمُوْنَ ۝١٠ يُنْۢبِتُ لَكُمْ بِهِ الزَّرْعَ وَالزَّيْتُوْنَ وَالنَّخِيْلَ

چه واپس راولئ اوکله چه صبا وخت ئے صحراته بوځئ (٦) اوپورته کوی بوجونه ستاسو داسے بارونوته چه نه ئے تاسو رسیدونکی هغے ته مګر په تکلیف دَ نفسونو سره یقیناً ستاسو رب ډیر شفقت کوونکے رحم کوونکے دے (٧) او (پیدا کړیدی) اسونه اوکچرے اوخره دپاره دَ دے چه په هغے باندے سورلی اوکړئ او دپاره دَ ډول اوپیدا کوی هغه څه چه تاسو نه پیژنئ (٨) او دَ اللّٰه تعالیٰ په ذمه باندے (بیان کول) دَ سمے لارے دی اوبعضے لارے کږے دی اوکه اللّٰه تعالیٰ غوښتلے خامخا هدایت به ئے تاسو ټولوته کړے وے (٩) خاص اللّٰه تعالیٰ داسے ذات دے چه راوړئ دَ بره طرف نه اوبه تاسو له دَهغے نه څښکل دی او دَهغے نه پیدا کیږی وني چه په هغے کښے سرَوئے (څاړوَ لره)(١٠)راټوکوی تاسو لره په هغے سره فصل او خونان اوکهجورے

پشم اودَ ویختونه۔ اومنافع کښ اشاره ده پیو اوغوښواوبچو وغیره ته۔

[٦] دا څلورم عقلی دلیل دے اومراد دَ دے دا دے چه تاسوکله څاروی سحراته بوځئ اوکله ئے واپس راولئی نوښائسته ښکاری اوهرکله چه واپس راوستل کیږی نوماړه شوی په خوراك اوځښکاك نوښائست پکښ ډیروی نودَ دے وجے نه ﴿تُرِيْحُوْنَ﴾ ئے مخکښ ذکر کړے دے۔

[٧] دا پنځم دلیل عقلی دے اوپه دے آیت کښ ذکرَدَ بارونواوږلودے په څاروو باندے دَپاره دَ دفع دَ مشقت دَ انسان نه نو دَدے وجے نه دَ آیت اختتام ئے اوکړو په ﴿لَرَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ﴾ سره۔

[٨] دا شپږم دلیل دے اوپدیکښ درے اقسام دَ حیواناتواودوه فائدے لوئے ذکرشویدی یوسورلی کول اودویم زینت کول، دا دلیل دے پدے باندے چه زینت جوړول دَ دنیا په ځیزونوسره دَ حدود شرعیوؤ دَ لاندے جائزدے نوپدے کښ خوراك ندے ذکر کړے ځکه چه خراوخچر خوړل بالاتفاق حرام دی او هرچه اسونه دی نودَ وجے دَ اختلاف دَ احادیثونه دَ هغے په باره کښ دَ اهل علمو اختلاف دے او راجح دا ده چه حلال دی او ﴿مَالَا تَعْلَمُوْنَ﴾ کښ اشاره ده هغه حشراتواوزنده سروته چه په اوچه اودریابونوکښ دی اوټول مخلوق هغے لره نه پیژنی۔نوپدیکښ دلیل دے په نفی دَ علم کُلّی سره دَتمام مخلوق نه ﴿لِتَرْكَبُوْهَا وَزِيْنَةً﴾ هرکله چه رکوب کله کله وی اوزینت همیشه وی دَ دے وجے نه اول ئے په صیغه دَ فعل سره اودویم ئے مصدرذکر کړو۔

[٩] پدے ایت کښ تنبیه ده په فائده دَ دلیلونوباندے چه هغه بیانول دَ حق لارے دی خو بیا هم اشاره ده چه هدایت په مشیت دَ اللّٰه تعالیٰ سره دے نه په دلیلونو کښ فقط ﴿وَمِنْهَا جَآئِرٌ﴾ دَ دے معنیٰ داد ه چه بعض لارے کږے دی دَ حق نه اودویمه معنیٰ داده چه بعضِ خلق کاږه روان دی دَ لارے دَ حق نه۔

[١٠] دا اووم دلیل دے او دے ایت کښ اشاره ده چه دَ باران اوبه دَ څښکلو دَ پاره اکثر استعمالیږی لکه

وَ الْاَعْنَابَ وَمِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ ؕ اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَاٰیَةً لِّقَوْمٍ یَّتَفَكَّرُوْنَ ﴿۱۱﴾ وَسَخَّرَ لَكُمُ الَّیْلَ وَالنَّهَارَ ۙ
وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ؕ وَالنُّجُوْمُ مُسَخَّرٰتٌۢ بِاَمْرِهٖ ؕ اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَاٰیٰتٍ لِّقَوْمٍ یَّعْقِلُوْنَ ﴿۱۲﴾ وَمَا ذَرَاَ لَكُمْ
فِی الْاَرْضِ مُخْتَلِفًا اَلْوَانُهٗ ؕ اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَاٰیَةً لِّقَوْمٍ یَّذَّكَّرُوْنَ ﴿۱۳﴾ وَهُوَ الَّذِیْ سَخَّرَ الْبَحْرَ لِتَاْكُلُوْا
مِنْهُ لَحْمًا طَرِیًّا وَّ تَسْتَخْرِجُوْا مِنْهُ حِلْیَةً تَلْبَسُوْنَهَا ۚ وَتَرَی الْفُلْكَ مَوَاخِرَ فِیْهِ وَلِتَبْتَغُوْا
مِنْ فَضْلِهٖ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۱۴﴾ وَاَلْقٰی فِی الْاَرْضِ رَوَاسِیَ اَنْ تَمِیْدَ بِكُمْ وَاَنْهٰرًا وَّ سُبُلًا

او انګور اودَ هر قسم میؤونه یقیناً پدیکښے دلیل دَ توحید دے هغه قوم لره چه فکر کوی(۱۱) اوتابع کړیدی (دَحکم خپل) تاسو لره شپه او ورځ او نمر او سپوږمئ او ستوری تابع کړے شوی دی دَحکم دَهغه یقیناً په دے کښے ډیر دلیلونه دی هغه قوم لره چه دَعقل نه کار اخلی(۱۲) (او پیدا کړی دی) هغه څه چه خواره کړیدی په زمکه کښے مختلف دی رنګونه دَ هغے یقیناً په دے کښے شته دلیل هغه قوم لره چه نصیحت قبلوی (۱۳) او اللّٰه تعالیٰ داسے ذات دے چه تابع کړے دے دریاب (دَ حکم خپل) دے دپاره چه خورئے دَهغے نه غوښه تازه اورا اوباسئے دَهغے نه کالی چه اغوندے هغه او وینے ته کشتئ اوبه شلوونکے په هغے کښے او دپاره دَ دے چه طلب کړئ فضل دَهغه او دے دپاره چه شکر اوکړئ (۱٤) او اچولی دی په زمکه کښے پاخه غرونه دپاره دَ دے چه اونخوځیږی ګډه وډه پتاسو باندے او سیندونه او لارے

سورة فرقان ایت (٤٨، ٤٩) اوبعضِ خلق اوبه دَ زمکے (ماء البحر) پس دَ صفا کولونه استعمالوی۔

[۱۱] دا اتم دلیل دے په دیکښ څلور اقسام دَ نباتاتو تفصیلاً ذکر دی او نور اجمالاً زرع کښ غِذاء ده اوپه زیتون کښ تیل دی او په نخیل کښ تفکهه اوغِذاء دواړه دی اوپه اعناب کښ علاج اوتفکهه دے اوپه دے ټولوکښ بے شماره منافع دی نودَ دے وجے نه دَ دے دپاره ئے تفکرکول ضروری کړی دی ﴿لَاٰیَةً﴾ مفرد په معنیٰ دَ جمع سره یعنی ډیر ایات دی اوهرکله چه فائدے دَ دے یو قسم ته راجع دی یعنی اکل وشرب نو مفرد ئے ذکرکړو۔

[۱۲] دانهم دلیل دے اومعنیٰ دَ تسخیرداده چه اللّٰه تعالیٰ دا څیزونه دَ خپل امرتابع کړیدی دَ انسان دَ فائِدودَپاره اوتسخیردَ ستوروئے جدا ذکرکړو ځکه چه دَ دے په فائدوعام خلق نه پوهیږی ﴿لَاٰیٰتٍ﴾ هرکله چه فائدے دَ دے جدا جدا اقسام دی دَ دے وجے نه جمع ئے ذکرکړله اوفائدے دَ دے په عقل سره معلومیږی فکر (چه عمیق عقل چلول دی) ته حاجت نه لری دَ دے وجے نه یعقلون ئے ذکرکړو۔

[۱۳] دا لسم دلیل دے اودا عطف دے په اَلّیل باندے تیرشوی ایت کښ۔ اوتفصیل دَ دے ایت په سورة فاطر (۲۸،۲۷) ایت کښ دے هرکله چه اختلاف دَ رنګونوامرِ واحد دے دَ دے وجے نه لَاٰیَةً ئے مفرد ذکر کړو۔

[۱٤] دا یوولسم دلیل دے هرکله چه مخکښ ایتونوکښ دَوَجے منافع ئے ذکرکړل نوپه دے ایت کښ منافع دَبحرذکر کوی اوهغه ئے پنځه ذکرکړی دی اوتسخیردَ بحردا دے چه اللّٰه تعالیٰ انسان لره قدرت ورکړے دے چه څوك په بحرکښ لامبووهی اوځوك پکښ په کشتوکښ ګرځی اوفائدے ترینه اخلی۔ مراد دَ﴿حِلْیَةً﴾ نه لؤلؤ اومرجان دی لکه سورة رحمٰن ایت (۲۲)کښ چه ذکردی دارنګ په دریاب کښ

لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ ﴿۱۵﴾ وَعَلٰمٰتٍ ؕ وَبِالنَّجْمِ هُمْ يَهْتَدُوْنَ ﴿۱۶﴾ اَفَمَنْ يَّخْلُقُ كَمَنْ لَّا يَخْلُقُ ؕ اَفَلَا
تَذَكَّرُوْنَ ﴿۱۷﴾ وَاِنْ تَعُدُّوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ لَا تُحْصُوْهَا ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۸﴾ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا تُسِرُّوْنَ
وَمَا تُعْلِنُوْنَ ﴿۱۹﴾ وَالَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ لَا يَخْلُقُوْنَ شَيْئًا وَّهُمْ يُخْلَقُوْنَ ﴿۲۰﴾ اَمْوَاتٌ
غَيْرُ اَحْيَآءٍ ۚ وَمَا يَشْعُرُوْنَ ۙ اَيَّانَ يُبْعَثُوْنَ ﴿۲۱﴾ اِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ فَالَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ ع ۱۴

دَ دے دپاره چه هدایت اومومئ (۱۵) (اوپیداکړی دی) نخے اوپه ستوری سره دوی لار مومی(۱۶) آیا پس هغه څوك چه پیدائش کوی پشان دَهغه کس دے چه نشی پیدائش کولے آیاپس نصیحت نه اخلئ تاسو (۱۷) اوکه شماره شروع کړئ تاسو دَ نعمتونو دَ اللّٰه تعالیٰ نو نشئ راګیرولے په شمار کښے یقیناً اللّٰه تعالیٰ بخنه کؤونکے رحم کؤونکے دے(۱۸) او اللّٰه تعالیٰ پیژنی هغه څه چه پټوئ تاسو اوهغه چه ښکاره کوئ (۱۹) او هغه کسان چه دوی ترینه حاجتونه غواړی دَ اللّٰه تعالیٰ نه سیوا نشی پیدا کولے هیڅ شے او دوئ پیدا کړے شویدی (۲۰)دامړه دی نه دی ژوندی (په دُنیاوی ژوند سره) او دوئ نه پوهیږی چه کله به دوباره ژوندی کیږی(۲۱)حقدار دَبندګئ ستاسو یواِلٰه دے پس هغه کسان چه دوئ ایمان په اخرت نه لری

کنجکے صدفونه وغیره شته چه دَ هغے نه امیلونه جوړیږی۔

[۱۵] دا دولسم دلیل دے ﴿اَنْ تَمِيْدَ بِكُمْ﴾ مراد دَ دے نه دا دے چه زمکه ګډه وډه اونه خوځیږی پتاسو ځکه چه میدپه لغت دَعربو کښ ګډوډ حرکت ته وائي او ﴿لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ﴾ دَ سُبُل سره تعلق لری یا درے واړو سره متعلق دے ځکه چه دَ غرونو په سبب هم ملکونه معلومیږی اوداسے ذکړیه سورة انبیاء (۳۱) ایت کښ هم شته۔

[۱۶] پدے کښ دیارلسم دلیل دے مراد دَعلامات نه هغه نخے دی چه په لارو کښ موجودوی اودَ هغے په سبب مقصد ته رسیدل کیږی یامراد دَعلامات نه غرونه دی یعنی غرونه ئیے دَمختلفوملکونودَپاره نخے ګرځولی دی، اودَ نجم نه مراد ستورے دَ جدی اوفرقدین (دا دَ ستورونومونه دی) دی۔ اوپه هغه سره قطب معلومیږی اوبیا دَ هغے په سبب سره قبله معلومیږی۔

[۱۷] دا زجر دے مشرکینوته چه دوی خالق دَ مخلوق پشان په بندګئ کښ ګرځولے دے۔

[۱۸] پدے کښ تنبیه ده په دے خبره چه نعمتونه صرف دغه نهٔ دی چه کوم تیرشول بلکه بے شماره دی نودے کښ هم اشاره ده دلیل دَتوحیدته اوهرکله چه نعمتونه بے شماره دی نوانسان دَټولوشکر نشی پوره کولے نووے فرمائیل چه ﴿اِنَّ اللّٰهَ لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ﴾۔

[۱۹] په دیکښ رد دَ شرك فی العلم دے اواشاره ده دے ته که شکردَ نعمتونویا نا شکری څوك پته کوی یا ښکاره نواللّٰه تعالیٰ په هغے عالم دے۔

[۲۰] په دے کښ رد دے په شرك فی الدعاء باندے سرهٔ دَ رد دَ شرك فی التصرف نه۔

[۲۱] په دے کښ هم رد دَ شرك فی التصرف اوفی العلم دے یعنی معبودان دَ دے مشرکانودَ اللّٰه تعالیٰ نه سیوامړه دی اومړے علم او تصرف نه لری نو ولے دوی دَ هغوی نه مدد غواړی۔

قُلُوْبُهُمْ مُّنْكِرَةٌ وَّهُمْ مُّسْتَكْبِرُوْنَ ﴿۲۲﴾ لَاجَرَمَ اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا يُسِرُّوْنَ وَمَا يُعْلِنُوْنَ ؕ اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْمُسْتَكْبِرِيْنَ ﴿۲۳﴾ وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ مَّاذَآ اَنْزَلَ رَبُّكُمْ ۙ قَالُوْٓا اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿۲۴﴾ لِيَحْمِلُوْٓا اَوْزَارَهُمْ

زړونه دَ دوئ بد ګنړي توحید لره او دوئ لوئی کړونکی دی (۲۲) خامخا اللّٰه تعالیٰ عالم دے په هغه څه چه دوئ ئیے پټوی اوهغه چه دوئ ښکاره کوی یقیناً اللّٰه تعالیٰ نه خو خوی لوئی کړونکی(۲۳) او کوم وخت چه دوئ ته اُوئیلے شی چه څه نازل کړیدی رب ستاسو دوئ وائی دادروغ قصے دی دَ زړوخلقو(۲٤) دَ دے دپاره چه پورته کوی به دوی پیټی خپل

فائده: دا آیت خاص په بوتانوپورے نه دے ځکه چه الفاظ دَ دے ایت عام دی بلکه دا شپږصفتونه (خلق نشی کولے، مخلوق دی، مړهٔ دی، ژوند ترینه ذائیل شویدے، شعورنه لری، بعث بعد الموت ئیے شته) خو دپاره دَ ذوِی العقول دی اوبتانوته خو مجازًا شاملیږی نوهرکله چه حقیقت موجود دے نومجازی معنیٰ ته هیڅ حاجت نیشته۔ اودَ دے وجے نه تفسیر روح المعانی کښ ذکرکړی دی چه دا آیت شامل دے ملائکو اوانبیاؤ اواولیاؤ ته بیا که څوك شبه اوکړی چه ملائك اوعیسیٰ علیه السلام چه مشرکان هغوی لره عبادت کوی هغوی خومړه نه دی، نواول جواب دادے چه اموات معنیٰ دا ده چه مړګ پرے راتلے شی اودَ غیراحیاء معنیٰ دا ده چه همیشه به ژوندے نه وی نوکه فی الحال مړه وی اوکه مړه نه وی دواړوته شامل شو۔ دویم جواب دا دے چه دا آیت خاص دے په هغه معبودانوپورے چه هغوی مړه شوی دی اوپس دَمرګ نه مشرکان دَ هغوی بندګی کوی اوحاجتونه ترینه غواړی لکه قبرپرست خلق شو۔ نومعنیٰ داشوه چه ستاسو معبودان اے قبرپرستومړه دی اودَ ﴿غَيْرُ اَحْيَآءٍ﴾ معنیٰ دا ده چه دنیاوی ژوند ورله نیشته اوهرچه برزخی ژوند دے نوثابت دے په نوروډلیلونوسره۔ دَ دینه استدلال کیدیشی چه اولیاء شهداء وغیره چه مړه شویدی نودَهغوی دَپاره حیات دنیویه نیشته بلکه حیات برزخیه دے۔

[۲۲] په دے آیت کښ تفریع دَ دعوے دَ توحید ده په مخکښ دلیلونوباندے اوبیا زجردے منکرینوته، اوانکار دَ زړه صفت دے اواستکبارپه قول اوعمل سره ښکاره کیږی۔

[۲۳] په دے آیت کښ زجردے په استکبارډتوحیدنه﴿مَايُسِرُّوْنَ﴾ اشاره ده انکارډ زړونوته ﴿وَمَا يُعْلِنُوْنَ﴾ اشاره ده استکبار ظاهری ته اوفرق په مینځ دَ تکبراواستکبارکښ دا دے چه تکبرکله مستعملیږی په کِبریا دَحق کښ چه هغه له حق دَ لوئیے وی اوپه دے معنیٰ متکبرډ اللّٰه تعالیٰ په اسماء حسنیٰ کښ دے او کله مستعملیږی په ناحق لوئي کولوکښ بغیرډ حق نه اوهرچه استکباردے نوهمیشه مستعملیږی په ناحق لوئي کولوکښ نو دَ دے صفت په کولو کښ دِیر قباحت دے په نسبت دَ متکبرٌ سره۔

[۲٤] په دے آیت کښ زجردے په انکارډ قرآن سره چه بیا نوؤنکے د توحید دے مطلب دا دے چه کله مشرکانوته اُوئیلے شی چه په دے قرآن کښ واقعات اودلیلونه دَتوحید شته نودَ دے خومنل پکاردی نودوی وائي چه دا هسے دروغ قصے دَمخکنو خلقودی دا دَ اللّٰه تعالیٰ کتاب نه دے لکه چه نن زمانه کښ باطل پرستوته اُوئیل شی چه قرآن کریم کښ رد دَ هرقسم شرك دے نودوی جواب کوی چه دا آیتونه دَ مخکنو په باره کښ دی۔

كَامِلَةً يَّوْمَ الْقِيٰمَةِ ۙ وَمِنْ اَوْزَارِ الَّذِيْنَ يُضِلُّوْنَهُمْ بِغَيْرِ عِلْمٍ ۗ اَلَا سَآءَ مَا يَزِرُوْنَ ﴿۲۵﴾ ع
قَدْ مَكَرَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ فَاَتَى اللّٰهُ بُنْيَانَهُمْ مِّنَ الْقَوَاعِدِ فَخَرَّ عَلَيْهِمُ السَّقْفُ مِنْ فَوْقِهِمْ
وَاَتٰىهُمُ الْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۲۶﴾ ثُمَّ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ يُخْزِيْهِمْ وَيَقُوْلُ اَيْنَ شُرَكَآءِيَ
الَّذِيْنَ كُنْتُمْ تُشَآقُّوْنَ فِيْهِمْ ۗ قَالَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ اِنَّ الْخِزْيَ الْيَوْمَ وَالسُّوْٓءَ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ﴿۲۷﴾

پوره دَ قیامت په ورځ او دَ پیټوډَ هغه چانه چه بے لارے کوی دوئ هغوی لره بغیر دَ دلیل نه خبر شئ بد دی هغه چه دوئ ئے پورته کوی (۲۵) یقیناً مکرونه کړی دی مخکنو خلقو (دَحق په مقابله کښے) پس راغے اللّٰه تعالیٰ بنیادونو دَ دوئ ته دَ ویخونو نه پس راپریوتلو په دوئ باندے چتونه دپاسه دَ دوئ نه او راغے دوئ ته عذاب دَ داسے ځائے نه چه دوئ نه پوهیدل (۲۶) بیا دَ قیامت په ورځ رسوا به کړی دوئ لره اللّٰه تعالیٰ او اوبه وائی کوم ځائے دی شریکان ځما هغه چه تاسو به چودلئ دَ دوئ په باره کښے اوبه وائی هغه کسان چه علم ورکړے شوے دے یقیناً رسوائی نن او بدی ټوله په کافرانو باندے ده (۲۷)

[۲۵] په دے ایت کښ تخویف دے، حاصل ئے دا دے چه هرکله دوی دَ قرآن تکذیب اوکړونودَ دوی تابعداروهم دَ دوی تقلید اوکړو اوګمراه شول نو دوی هم ګمراه دی اوهم ګمراه کوونکی دی ځکه په دوی باندے په ورځ دَ قیامت کښ دوه پیټی دَ ګناهونوبه وی لکه په سورة عنکبوت آیت (۱۳) کښ چه ذکردی ﴿كَامِلَةً﴾ دا دَ دے وجے نه ذکرکړوچه دَکافرانوهیڅ ګناه نه معاف کیږی۔

[۲۶] په دے آیت کښ تخویف دنیوی دے په مثال دَسابقینوسره اوداآیت یا خوپه ظاهرباندے حمل دے اوپه باره دَ نمرود او دَقوم دَهغه یاثمودیان اوقوم لوط کښ دے یا دا آیت عام دے اوپه طریقه دَتاویل اودَتمثیل سره دے لکه چه چاآبادی جوړه کړی وی اوبیخ ئے مضبوط وی، لیکن ناګاه داچت په دوی باندے راپریوځی نودارنګ مشرکانو کافرانودَحق په مقابله کښ مضبوط تدبیرونه جوړ کړی وودَ دے دپاره چه حق لره ختم کړی لیکن اللّٰه تعالیٰ دَ دوی تدبیرونه برباد کړل اودوی ئے هلاك کړل۔

[۲۷] پدے آیت کښ تخویف اخروی دے۔ اودَ دوی دَشرمنده کولودپاره به په ورځ دَ قیامت کښ دَ دوی نه به تپوس کیدے شی چه څه شول ستاسوهغه معبودان چه تاسوبه دَ هغوی دپاره جګړے کولے دَ مؤحدینو سره اوس هغوی خپل مدد دَپاره رااوبلئی نودوی به چپ شی اومؤحدین به دَ دوی په دے شرمندګئی اوپه عذاب باندے خوشحالی اوکړی۔

فائده: سورة انعام آیت (۳۲) کښ ذکر دی اودارنګ په سورة حم سجده ایت (۴۷) اوحم مؤمن آیت (۷۴) کښ ذکرشویدی چه دوی به انکار اوکړی اوپه دے سورة کښ معلومیږی چه دوی به چپ وی نوداپه ظاهرکښ تعارض دے جواب دا دے چه قیامت کښ مختلف اوقات دی بعضِ وخت به دوی چپ وی اوبعض وخت کښ به انکارکوی اوبعض وخت به اقرارهم کوی ﴿اُوْتُوا الْعِلْمَ﴾ مراد دَ دے نه مؤحدین دی ﴿الْخِزْيَ﴾ شرمندګی په ښکاره کیدلودَنقصاناتودَدوی ﴿وَالسُّوْٓءَ﴾ عذابونه مراد دی۔

الَّذِيْنَ تَتَوَفّٰىهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ ظَالِمِيْٓ اَنْفُسِهِمْ ۠ فَاَلْقَوُا السَّلَمَ مَا كُنَّا نَعْمَلُ مِنْ سُوْٓءٍ ؕ بَلٰٓى اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌۢ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۲۸﴾ فَادْخُلُوْٓا اَبْوَابَ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ فَلَبِئْسَ مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِيْنَ ﴿۲۹﴾ وَقِيْلَ لِلَّذِيْنَ اتَّقَوْا مَاذَآ اَنْزَلَ رَبُّكُمْ ؕ قَالُوْا خَيْرًا ؕ لِلَّذِيْنَ اَحْسَنُوْا فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةٌ ؕ وَلَدَارُ الْاٰخِرَةِ خَيْرٌ ؕ وَلَنِعْمَ دَارُ الْمُتَّقِيْنَ ﴿۳۰﴾ جَنّٰتُ عَدْنٍ يَّدْخُلُوْنَهَا تَجْرِيْ مِنْ

هغه کسان دی چه ساه اخلی دَ دوئ نه ملائك په داسے حال کښے چه ظلم به کوی په ځان باندے (په شرك کولوسره) پس مخکښے به کړی دوئ دَروغے خبرے چه مونږ خونه ده کړے هیڅ قسم بدی بلکه یقیناً اللّٰه تعالیٰ پوهه دے په هغه کارونو چه دوئ ئے کوی (۲۸) پس ورننوځئ دروازو دَ جهنم ته همیشه به ئے په هغے کښ پس ناکاره ځائے دے دَ لوئے کؤونکو (۲۹) اوچه اُوئیلے شی هغه چاته چه ځان ئے دَشرك نه ساتلے دے څه شے نازل کړیدے رب ستا اوبه وائی (چه نازل کړے دے) خیر لره هغه چاله چه توحید ئے منلے دے هغوی لره په دے دُنیا کښے ښه ژوند دے او کور روستنئ ډیر غوره دے اوښه دے کور دَ متقیانو (۳۰) چه هغه جنتونه دَ همیش والی د ی داخلیږی به هغے ته بهیږی به دَ

[۲۸] په دے آیت کښ ذکرشویدے وخت دَ ځنکدن دَ مشرکانوچه په هغه وخت کښ به هم اللّٰه تعالیٰ ته منقاد شی اودَ شرك کولونه به انکار اوکړی لیکن په داسے وخت کښ توبه نه قبلیږی لکه سورة حم مؤمن ایت(۸۵) کښ چه ذکردی ﴿فَاَلْقَوُا السَّلَمَ﴾ په جواب دَ هغه قول کښ چه این شرکائي لکه په سورة انعام (۳۲) اوسورة مؤمن (۷٤) کښ دی۔

[۲۹] په دے ایت کښ تخویف اخروی دے یعنی اخرت کښ به دوی ته اُوئیلے شی چه جهنم ته داخل شئے یا به داسے وئیلے کیږی په وخت دَمرګ کښ اوارواح دَ دوی به جهنم ته داخل کړی نودا دلیل شوپه عذاب قبرباندے اوابن کثیروئیلی دی چه دامنکرین به دَ وخت دَ مرګ نه په ارواحوسره جهنم ته داخل شی اواجسامودَ دوی ته به سختی رسی په قبرونوکښ اوپه ورځ دَ قیامت به ارواح په جسمونوکښ داخل کړے شی اوجهنم کښ به دَ همیشوالی دَ پاره داخل کړیشی۔

[۳۰] په دے آیت کښ ذکرشویدے قول دَمؤحدینوپه باره دَ قرآن کښ چه دا دَ خیراودَ فائدوکتاب دے اوداپه مقابله دَ قول دَ مشرکانوکښ دے چه مخکښ تیرشو۔ بیا په دے آیت کښ بشارت دنیوی اواخروی دے اواِحْسَانِ نه مرادعقیده دَ توحید ده اوهغے عقیدے ته دعوت ورکول دی، اودَ ﴿حَسَنَةٌ﴾ نه په دنیاکښ نصرت اوفتح مراد ده۔

فائده ۱: مخکښ ایت کښ اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ په رفع سره ذکرکړے دے اوپه دے ایت کښ خَيرًاپه نصب سره ذکرکړے دے وجه دَ فرق دا ده چه مشرکانوایمان نه لروپه نزول دَ قرآن نودَ هغوی دَ قول مطلب داووچه دامحمد ﷺ چه څه وائي نودا اساطیردی نازل کړے شوی نهٔ دی اومؤمنانوایمان لرلوپه نزول باندے نودَ هغوی دَکلام تقدیردا دے چه اَنزَلَ خَيرًا۔

فائده۲: تیرشوی آیت کښ مثوی ذکروو اوپه دے آیت کښ دارذکرشوے دے وجه دَ فرق دا ده چه مثواه هغه مقام ته وائي چه بغیرَ رضااودَ اختیارنه وی اوهغه جهنم دے اودار هغه مقام ته وائي چه په رضا اوپه

تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ لَهُمْ فِيْهَا مَا يَشَآءُوْنَ ؕ كَذٰلِكَ يَجْزِى اللّٰهُ الْمُتَّقِيْنَ ۙ﴿۳۱﴾ الَّذِيْنَ تَتَوَفّٰىهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ
طَيِّبِيْنَ ۙ يَقُوْلُوْنَ سَلٰمٌ عَلَيْكُمُ ۙ ادْخُلُوا الْجَنَّةَ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۳۲﴾ هَلْ يَنْظُرُوْنَ اِلَّاۤ اَنْ
تَاْتِيَهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ اَوْ يَاْتِىَ اَمْرُ رَبِّكَ ؕ كَذٰلِكَ فَعَلَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ وَمَا ظَلَمَهُمُ اللّٰهُ وَلٰكِنْ كَانُوْۤا
اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿۳۳﴾ فَاَصَابَهُمْ سَيِّاٰتُ مَا عَمِلُوْا وَحَاقَ بِهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۳۴﴾ وَقَالَ
الَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا لَوْ شَآءَ اللّٰهُ مَا عَبَدْنَا مِنْ دُوْنِهٖ مِنْ شَىْءٍ نَّحْنُ وَلَاۤ اٰبَآؤُنَا وَلَا حَرَّمْنَا مِنْ دُوْنِهٖ
مِنْ شَىْءٍ ؕ كَذٰلِكَ فَعَلَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۚ فَهَلْ عَلَى الرُّسُلِ اِلَّا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿۳۵﴾ وَلَقَدْ بَعَثْنَا

لاندے دَ هغے نه ولے دَ دوئ دپاره په هغے کښے هغه څه دی چه غواړی دوی دغه شان بدله ورکوی الله تعالیٰ متقیانو لره (۳۱) داهغه کسان دی چه ساه اخلی دَ دوی نه ملائك داسے حال کښے چه پاك وی دَشرك نه وائی به ملائك سلامونه دی په تاسو باندے ورننوځئ جنت ته په سبب دَ عملونو ستاسو (۳۲) انتظار نه کوی دوئ مګر دَ راتلودَ ملائکو (دَ مرګ) یا دَراتلو دَ حکم دَ رب ستادغه شان کار کړے ؤو هغه چاچه دَ دوئ نه پخوا ؤو او ظلم نه دے کړے الله په دوی باندے لیکن دوئ په خپلو ځانونو ظلم کؤو (۳۳) پس اورسیدلے دوئ ته ناکاره سزا ګانے دَعملونو او راګیرکړی دی دوئ لره هغه عذاب چه دوئ ورپورے ټوقے کولے (۳٤) او وائی هغه کسان چه شرك ئے کړے دے که الله تعالیٰ غوښتلے بندګی به نه وے کړے مونږ دَ الله تعالیٰ نه سیوا دَهیڅ ځیز مونږه اونه مشرانو زمونږه اونه به حرام کړے وے مونږ سیوا (دَ اذن) دَ الله تعالیٰ نه څه ځیز دغه شان کار کړے ؤو هغه کسانو چه دوئ نه مخکښ ؤو پس نیشته په رسولانو باندے مګر رَسول دی صفا (بنکاره)(۳۵) او یقیناً لیږلی دی مونږ

اختیارسره حاصلیږی او هغه جنت دے۔

[۳۱] په دے آیت کښ تفصیلی بشارت دے په ذکردَ پنځو حالاتوسره په (۳۰) کښ دَ متقین نه مؤحدین مراد دی اوپه دے کښ دَ متقین نه مراد مؤحدین کاملین (یعنی چه دَ نورو ګناهونونه ځان ساتی) مراد دی۔

[۳۲] په دے آیت کښ ذکردَحال دَځنکدن دَمؤحدینودے په مقابل دَحال دَظالمانو کښ اوادخلوا الجنة خطاب دے ارواحونه په ورځ دَ قیامت کښ ﴿سَلٰمٌ عَلَيْكُمُ﴾ مراد دَ دے نه بشارت دے په سلامتیاسره دَمصیبت نه۔

[۳۳] په دے آیت کښ تخویف دنیوی دے منکرینوته اومراد دَ آیت دا دے چه دوی ایمان نه راوړی پشان دَ متقیانوبلکه کله چه ملائك راشی دَپاره دَ قبض دَ ارواحودَ دوی یا بل عذاب راشی دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه نودوی به هغه وخت ایمان راوړی، لیکن هغه ایمان قبول نهٔ دے نودا ایمان نه راوړل دَ دوی تردغه وخته پورے دَ دے نه ئے تعبیراو کړوپه انتظارسره تشبیهاً ورنه دوی خوانتظارنه دے کړے۔

[۳٤] په دے کښ ذکردَعذاب دے دَپاره دَتخویف اودارنګ په سورة زمر(۳۵) کښ دی ﴿سَيِّاٰتُ﴾ نه مراد ناکاره سزاګانے دی چه هغه ډیرقسمه دی نوځکه ئے جمع ذکر کړه۔

[۳۵] دَدے آیت نه دویم باب دے تر(٤۷) پورے په دے کښ اولاً ذکرکړیدے دلیل دَ مشرکانو اوپه هغے

فِيْ كُلِّ اُمَّةٍ رَّسُوْلًا اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوْتَ ۚ فَمِنْهُمْ مَّنْ هَدَى اللّٰهُ وَمِنْهُمْ مَّنْ حَقَّتْ عَلَيْهِ الضَّلٰلَةُ ۭ فَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ فَانْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِيْنَ ۝ اِنْ تَحْرِصْ

په هر اُمت کښے رسول (په دے خبره) چه بندگی خاص کړئ دَ اللّٰه تعالیٰ او ځان ساتئ دَ (بندګئ) دَ غیر اللّٰه نه پس بعضے دَ دوئ هغه ځوك دی چه اللّٰه تعالیٰ ورته هدایت کړے دے او بعضے هغه دی چه پخه شوے ده په هغه باندے ګمراهی پس اوګرځئ زمکه کښے پس اوګورئ (دَ عبرت په نظر) چه څنګه شو انجام دَ تکذیب کؤونکو(۳۶) که ته حرص کوے

باندے زجر دے۔ او دا دعویٰ دَ سورة ده بیا دلیل نقلی اجمالی دَ ټولوانبیاؤنه ئیے ذکر کړیدے دَپاره دَجواب دَ دلیل دَمشرکانوپه آیت (۳۶)کښ بیا تسلی ده په (۳۷)کښ، بیا زجردے په انکارد بعث اواثبات دَبعث الموت دے په (۳۸،۳۹، ۴۰)کښ، بیاترغیب دے هجرت ته دَپاره دَبج کیدلودَ ظلم دَ ظالمانونه په آیت (۴۱، ۴۲)کښ، بیا اثبات دَ رسالت دے سره دَجواب دَسوال دَمنکرینونه په آیت (۴۳،۴۴)کښ، بیا تخویف دنیوی دے په آیت (۴۵،۴۶،۴۷)کښ۔ په دے آیت (۳۵)کښ ذکر دے استدلال دَمشرکانودَ پاره دَجوازدَشرك په مشیت دَ اللّٰه تعالیٰ سره اودارنګ ئیے ذکرکووپه سورة انعام (۱۴۸)کښ اوبعضِ تفصیل دَ دے تیرشوے دے په تفسیردَسورة انعام کښ۔ اودا مشیت کونیه دے چه تقدیردے اودا قول دَ دوی بناوؤپه دے چه دوی هم مشیت کونیه دَ اللّٰه تعالیٰ منلویا دا قول دَ دوی الزام دے په مؤمنانوچه اے مؤمنانوتاسو وائیے چه تقدیرحق دے نوزمونږشرك هم په تقدیر الٰهی کښ مقرردے نومونږپه دے کښ ګنهګار نه یو۔ اوهرکله چه په دوی کښ دوه قسمه شرك وویوشرك په عبادت کښ اوبل شرك په تحریم اوتحلیل کښ نوپه دے ایت کښ ئیے دواړه ذکرکړه اوهرکله چه دا دلیل په حقیقت کښ تکذیب اواستهزاء وه نوځکه ئیے دَ هغے تعبیرکړے دے په سورة انعام کښ په کذّب سره اوپه دے سورة کښ په فعل سره تعبیردے ځکه دلته مقصد دَ دوی استدلال دے لیکن دلته هم دَفعل نه مراد استهزاء اوتکذیب دے نوحاصل دا دے چه مشیت دوه قسمه دے یومشیت کونیه اوبل مشیت شرعیه۔ اوافعال، اوصاف دَبندګانوهم دوه قسمه دی یوکونیه چه په هغے کښ دَانسان هیڅ اختیارنیشته لکه پیدائش دَانسان تور، سپین۔ دنګ، لنډ وغیره نوپه دے کښ دَ هغه انسان په مشیت کونیه دَ اللّٰه تعالیٰ (چه تقدیردے) استدلال کولے شی اودویم قسم افعال شرعیه دی چه په هغے سره دے مکلّف دے اوانسان لره په هغے کښ مشیت اواختیارمِن وجه لکه په سورة کهف کښ (فَمن شاء فلیؤمن ومن شاء فلیکفر) نوپه دے کښ انسان په مشیت کونیه سره استدلال نشی کولے۔ مګر هغه وخت چه څه عمل ترینه صادرشی دَمخالفت په شکل کښ اوبیا په توبه سره معاف شی نوکه ځوك په دهٗ باندے بیا اعتراض اوکړی اودے حواله ورکوی په تقدیراومشیت کونیه باندے نودا جائز دی لکه احتجاج دَآدمعليه السلام په مقابله دَموسیٰعليه السلام کښ دَ دے قبیلے دے۔

[۳۶] په دے ایت کښ دلیل نقلي اجمالی دے دَ ټولوانبیاؤنه په اثبات دَ توحید اودَرد دَ شرك۔ ان اعبد اللّٰه کښ توحید دے او واجتنبوا الطاغوت کښ رد دَ شرك دے، اوپه دے کښ جواب دے دَ تیرشوی استدلال دَ مشرکانوحاصل دَجواب دا دے که اللّٰه تعالیٰ رضاوے ستاسوپه شرك باندے نوانبیاء به ئیے نه رالیږل په

عَلٰى هُدٰىهُمْ فَاِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِىْ مَنْ يُّضِلُّ وَمَا لَهُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ﴿۳۷﴾ وَاَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ جَهْدَ
اَيْمَانِهِمْ ۙ لَا يَبْعَثُ اللّٰهُ مَنْ يَّمُوْتُ ؕ بَلٰى وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا وَّلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۳۸﴾
لِيُبَيِّنَ لَهُمُ الَّذِىْ يَخْتَلِفُوْنَ فِيْهِ وَلِيَعْلَمَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَنَّهُمْ كَانُوْا كٰذِبِيْنَ ﴿۳۹﴾ اِنَّمَا قَوْلُنَا
لِشَىْءٍ اِذَآ اَرَدْنٰهُ اَنْ نَّقُوْلَ لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ ﴿۴۰﴾ وَالَّذِيْنَ هَاجَرُوْا فِى اللّٰهِ مِنْۢ بَعْدِ مَا ظُلِمُوْا

په هدایت دَ هغوی باندے پس یقیناً اللّٰه تعالیٰ هدایت نه کوی هغه چاته چه بے لارے کړی اونیشته دوی لره هیڅ څوك مددګاران (۳۷) او قسمونه کړی دی دوی په اللّٰه تعالیٰ باندے پاخه قسمونه چه ژوندی به نکړی اللّٰه تعالیٰ هغه څوك چه مړه کړی دی بلکه وعده ده په اللّٰه تعالیٰ باندے یقینی لیکن زیات خلق نه پوهیږی (۳۸) (او دے دپاره ژوندی کوی) چه بیان کړی دوی ته هغه خبرے چه دوی پکښے اختلاف کوی اوچه پوهه شی کافران خلق چه دوی به دروغ وئیل (۳۹) یقیناً وینا زمونږ دَ یو څیز په باره کښے چه کله مونږ او غواړو دا ده چه اُوایو هغه ته چه اوشه نو هغه اوشی (۴۰) اوهغه کسان چه هجرت ئے کړے دے دَ اللّٰه تعالیٰ دپاره روستو دَ دے نه چه پدوی باندے ظلم کړے شویدے

مخالفت دَ شرك کښ یعنی مشیت شرعیه جدا دے دَمشیت کونیه نه اومشرکینوته به ئے عذاب نه ورکوؤ۔

[۳۷] په دے آیت کښ تسلّی ده پیغمبرﷺ ته چه هدایت دَ اللّٰه تعالیٰ په اختیاز کښ دے ستا په ذمه صرف تبلیغ دے۔ یعنی دَ مخکښو رسولانوپه وخت کښ هدایت اوضلال په اختیاردَ اللّٰه تعالیٰ کښ وؤنواوس هم دے۔

[۳۸] په دے آیت کښ زجردے په انکار دَبعث بعد الموت پس دَ رد دَ شرك دَ دوی نه نودا اشاره ده چه شرك اوانکاردَ بعث نه دَ اصولودَکفرنه دی اواقسموا باللّٰه کښ دلیل دے چه مشرکانوبه کله کله قسم کووپه اللّٰه تعالیٰ سره ﴿جَهْدَ اَيْمَانِهِمْ﴾ په دے کښ اشاره ده چه مشرکانوبه په اللّٰه تعالیٰ باندے قسم کول مضبوط قسم ګنړلواوتعجب دے دَ نن زمانے په جاهلانوچه قسم کول په اولیاؤ باندے مضبوط قسم ګنړی اوپه اللّٰه تعالیٰ باندے قسم کولوباندے هیڅ پرواه نکوی۔

[۳۹] دا آیت متعلق دے په کلام مقدرپورے په تیرشوی ایت کښ تقدیرئیے داسے دے بلی لِيُبعثنّهم لِيُبَيِّنَ، اوپه دے ایت کښ دَ بعث دوه فائِدے ذکرکړیدی اوله فائِده بیان دَ اموراختلافیه په طریقه دَفیصلے کولوسره اوهغه دَ دے سورة په (۹۲) کښ ذکرکیږی اوتعبیر دَ فیصلے په سورة بقره (۱۱۳) اوسورة نساء (۱۴۱) اونورو ایاتونوکښ ذکردے۔ اودویمه فائده یقین کول دَکافرانودی په کذب خپل باندے په هغه اقوالوکښ چه په دے سورة کښ ذکر شول (۲۴، ۳۵، ۳۷) کښ اونوراقوال هم دَ دے کافرانو۔

[۴۰] په دے ایت کښ اثبات دَ بعث دے په بیان دَ قدرت تکوینی دَ اللّٰه تعالیٰ سره اودارنګ سورة یٰس(۸۲) کښ ذکردے اودلته ئے قول سره تعبیراوکړوپه مقابله دَ اقوال (کاذبه) دَکافرانوکښ۔

لَنُبَوِّئَنَّهُمْ فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً ۖ وَلَأَجْرُ الْآخِرَةِ أَكْبَرُ ۚ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ ﴿٤١﴾ الَّذِينَ صَبَرُوا وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ
يَتَوَكَّلُونَ ﴿٤٢﴾ وَمَا أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ إِلَّا رِجَالًا نُّوحِي إِلَيْهِمْ ۚ فَاسْأَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِن كُنتُمْ لَا
تَعْلَمُونَ ﴿٤٣﴾ بِالْبَيِّنَاتِ وَالزُّبُرِ ۗ وَأَنزَلْنَا إِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٤٤﴾

وقف لازم — النصف

خامخا ځائے ورکړو به دوئ ته په دنیا کښے ځائسته او خامخا ثواب د آخرت ډیرلوئے دے که چرے دوئ پوهیدے (٤١) دوی هغه دی چه صبرئے کړے دے اوپه خپل رب باندے توکل کوی (٤٢) اونه دی لیږلی مونږ ستانه پخوا مګر نارینه چه وحی کوله مونږ دوئ ته پس تپوس اوکړئ د علم والونه که تاسونه پوهیږئ (٤٣) (لیږلے وؤ مونږ) په ښکاره دلیلونو (عقلیو) اودَ نصیحت په خبرو او نازل کړے دے مونږ تاته دا قرآن د دے دپاره چه وضاحت اوکړے خلقوته دَهغه حکمونو چه نازل کړے شوی دی دوئ ته او د پاره د دے چه دوی فکر اوکړی (٤٤)

[٤١] په دے آیت کښ ترغیب دے هجرت ته او بشارت مهاجرینوته روستو د ذکر د ظلم د ظالمانونه یعنی د ظالمانو د ظلمونونه د بچ کیدلو د پاره چه څوك هجرت کوی۔ اودا د دے ربط دے دَماقبل سره اومراد ﴿حَسَنَةً﴾ نه رزق حلال او نیك ذکردے په روستوخلقوکښ اونصرت دَاللّٰه تعالیٰ دے ﴿لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ﴾ په دے کښ تعریض دے په هجرت نه کوونکوباندے۔

[٤٢] په دے آیت کښ دوه عملونه ذکر دی صبر اوتوکل چه دا لازم دی د هجرت سره په صبر باندے مراد صبر کول د مؤحد دی په اذیتونودَمشرکانوباندے اودوی روستودَ اذیتونونه په سبب د توکل سره هجرت کوی۔

فائده: په دے آیتونوکښ اشاره ده هجرت د حبش ته چه بعض صحابه کرامو د مکے نه اول هجرت کړے وومللك د حبش ته نوپه حبشوکښ د بادشاه(اصحمه) ملګرتیا ورته ملاؤ شوه او د هغے نه روستوپه مدینه کښ او بیا روستو په نورو ملکونوباندے غلبه حاصله شوه۔

[٤٣] دے ایت کښ اثبات دَصدق د رسول اللّٰهﷺ دے اورد دے په دریمه عقیده دَکافرانوچه انکارد رسالت دے اوجواب د شبهے د منکرینودَ رسالت دے چه منکرینوشبهه کوله چه رسول د اللّٰه بشر نشی کیدے نودے آیت کښ ئے جواب اوکړواو ﴿أَهْلَ الذِّكْرِ﴾ نه مراد علماء دَکتاب اودَسنت دی چه هغوی عقیده لری په هغے باندے اوعمل پرے کوی نودَدے وجے نه اهل العلم ئے نه دی وئیلی بلکه اهل الذکرئے وئیلی دی اوتفسیرقرطبی کښ د دے آیت په تفسیر کښ لیکلی دی چه ټول انبیاء بشر دی اوداسے ذکردے په سورة انبیاء آیت (٧) کښ هم۔

فائده: په دے آیت کښ دلیل دے په دے خبره چه په وخت د نیشتوالی د علم کښ د اهل علم نه تپوس کول فرض دی۔ ځکه چه دَکوم شی عمل فرض دے نودَ هغے علم هم فرض دے۔ لیکن د دے آیت نه استدلال کول په اثبات د تقلید جامد اوتقلید شخصی صحیح اوجائز نه دی اوله وجه دا ده چه الذکرنه مراد وحی ده یعنی د هغه چانه تپوس کوئے چه په جواب کښ دلیل د وحی ذکرکوی (قرآن اوسنت) اود دلیل تابعدارئے ته تقلید نشی وئیلے کیدے۔ دویمه وجه دا ده چه دَعدم علم دوه درجے دی اول عدم علم دَحکم دویم عدم علم د دلیل نودواړه تپوسونه کول لازم دی نوچه دلیل ورته معلوم شی نودا خوتقلیدنه دے۔ دریمه وجه دا ده چه اللّٰه تعالیٰ اهل الذکرعام ذکرکړیدی اومقلد حنفی خودَشافعی عالم نه تپوس نه

اَفَاَمِنَ الَّذِيْنَ مَكَرُوا السَّيِّاٰتِ اَنْ يَّخْسِفَ اللّٰهُ بِهِمُ الْاَرْضَ اَوْ يَاْتِيَهُمُ الْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۴۵﴾ اَوْ يَاْخُذَهُمْ فِيْ تَقَلُّبِهِمْ فَمَا هُمْ بِمُعْجِزِيْنَ ﴿۴۶﴾ اَوْ يَاْخُذَهُمْ عَلٰى تَخَوُّفٍ ؕ فَاِنَّ رَبَّكُمْ لَرَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ﴿۴۷﴾ اَوَلَمْ يَرَوْا اِلٰى مَا خَلَقَ اللّٰهُ مِنْ شَيْءٍ يَّتَفَيَّؤُا ظِلٰلُهٗ عَنِ الْيَمِيْنِ وَالشَّمَآئِلِ سُجَّدًا لِّلّٰهِ

ایا پس په امن شول هغه خلق چه مکرونه جوړوی دَ ناکاره کارونو دپاره چه ښکته به بوځی اللّٰه تعالیٰ دوئ په زمکه کښے یابه راشی دوئ ته عذاب دَ داسے ځائے نه چه دوئ به نه پوهیږی(۴۵) یابه اونیسی دوئ لره په وخت دَ سفر کولو کښے پس دوی نه شی عاجز کولے اللّٰه تعالیٰ لره (۴۶) یابه اونیسی دوئ لره په حالت دَ یرولو پس یقیناً ستاسو رب ډیر شفقت کؤونکے رحم کؤونکے دے (۴۷) ایا دوئ نه ګوری هغه څیزونو ته چه پیدا کړیدی اللّٰه تعالیٰ دَ هریو څیزنه ګرځی سوری دَ هغے دَ ښی طرف نه اوکینږ(ګس) طرفونونه سجده کؤونکی اللّٰه تعالیٰ ته

کوی بلکه مونځ کول هم ورپسے جائزنه ګنړی ځلورمه وجه علی طریق التنزل ده چه صحیح ده چه په دے ایت کښ اثبات دَتقلید دے دَ امی لیکن هرکله چه روستووخت کښ دغه شخص امی ته چه صحیح حدیث دَ مخکښی قول نه خلاف معلوم شی نودے به دغه قول پریږدی اوپه حدیث به عمل کوی اوداسے شامی دَعلامه بیری نه نقل کړیدی په (ج ۱/ ص ٤٦) کښ نومعلومه شوه چه مخکښ تقلید دَ دے شخص تقلید محمود وؤاوکه سرهٔ دَعلم دَ مخالفت دَصحیح حدیث نه اول قول (مذهب خپل) نه پریږدی نودا تقلید مذموم اوحرام دے۔

[٤٤] دا آیت هم متعلق دے په مخکښ ایت پورے اوتشجیع ده رسول ﷺ ته په تبلیغ دَ قرآن روسته دَ اثبات دَ صدق دَ هغه نه﴿بِالْبَيِّنٰتِ﴾ متعلق دے په اَرسَلنَاهُم مقدرپورے اویا متعلق دے په لاتعلمون پورے اوپه دے ایت کښ یوذمه واری دَپیغمبرذکر شوے ده چه هغه تشریح کول دَقرآن دی،اودویمه ذمه واری په امت کښ دَاهل فکروالاجتهاد ذکرکړے شوے ده په ﴿لِتُبَيِّنَ﴾ کښ دلیل دے په دے خبره چه سنت دَ نبی ﷺ شرح اوتفسیردَقرآن دے اوپیغمبردَ دے دپاره رالیږلے شوے دے اوپه دے کښ صریح رد دے په منکرینودَ حدیث باندے۔

فائده: په دے ایت کښ اشاره ده دلیلونودَشرعے ته اول دلیل قرآن دے چه په لفظ دَ الذکر، کښ مراد دے اودویم دلیل سنت دَنبی ﷺ دے چه په لِتُبَيِّنَ کښ هغے ته اشاره ده اودریم دلیل اجتهاد دَمجتهدینودے که په اتفاق سره وی توهغے ته اجماع وائي اوکه قول دَبعضو وی نوهغے ته قیاس دَمجتهد وائي لیکن اجماع دلیل اوحجت مثبته دے پدے شرط چه سند دَ هغے دَ قرآن اوسنت نه موجود وی اودَنص صریح نه مخالف نه وی اوقیاس خوحجت دَ اثبات دَپاره نه دے بلکه صرف ښکاره کوؤنکے دے۔

[٤٥،٤٦،٤٧] هرکله چه تیرشوؤ ایتونوکښ دَ مشرکانومخالفتونه اوشبهے په رسول اوپه قرآن اوپه توحید باندے اوپه قیامت باندے ذکرشول نواوس دَ هغوی دپاره تخویف دنیوی په درے ایتونوکښ ذکرکوی دَ ﴿مَكَرُوا السَّيِّاٰتِ﴾ نه مراد دغه مخالفتونه اوشبهات دی په اسلام باندے کوم چه مخکښ تیرشول۔ ﴿تَقَلُّبِهِمْ﴾ نه مراد سفرونه کول دَپاره دَ دنیا دی اودَ داسے سفر سره پریشانی ضرور وی دَ دے وجے په

وَهُمْ دٰخِرُوْنَ ﴿۴۸﴾ وَلِلّٰهِ يَسْجُدُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ مِنْ دَآبَّةٍ وَّالْمَلٰٓئِكَةُ وَهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ ﴿۴۹﴾
يَخَافُوْنَ رَبَّهُمْ مِّنْ فَوْقِهِمْ وَيَفْعَلُوْنَ مَا يُؤْمَرُوْنَ ﴿۵۰﴾ وَقَالَ اللّٰهُ لَا تَتَّخِذُوْٓا اِلٰهَيْنِ اثْنَيْنِ ۚ اِنَّمَا هُوَ اِلٰهٌ

او دوی عاجز وی(۴۸) اوخاص اللّٰه تعالیٰ لره سجده کوی هغه څه چه په اسمانونو کښے دی اوهغه څه چه په زمکه کښے دی هر قسم جاندار او ملائك او دوی لوئی نه کوی دَ حکم دَ اللّٰه تعالیٰ نه (۴۹) یریږی دوی دَرب خپل نه چه اوچت دے دَ دوی نه اوکوی دوی هغه چه دوئ ته ئے حکم کیدیشی (۵۰) اوفرمائیلی دی اللّٰه تعالیٰ مه جوړوئ حق دار دَ بندګئ دوه یقیناً هغه حق دار دَبندګئ

صیغه دَ فعل سره ذکرکړه اودا وصف دَکافرانودے لکه په سورة العمران (۱۹۶)کښ دی۔ یا په بسترو باندے اوپیدل راوړیدل مراد دی ﴿تَخَوُّفٍ﴾ نه مراد نقصان دَمالونواودَ فصلونواوځارووے یا ترے مراد عذاب دَ تادئے دے یا یره دَ دشمن ده۔

[۴۸] دَ دے ځائے نه دریم باب دے ترآیت (۶۴) پورے په دے باب کښ درے عقلی دلیلونه دی چه په هغے کښ انقیاد دَ عالم دَپاره دَاللّٰه تعالیٰ ذکردے ایت (۴۸،۵۲،۵۳)کښ اودلیل وحی دے په (۵۱) کښ بیا زجردے په شرك سره په (۵۴،۵۵)کښ بیا زجردے په نذر دَغیراللّٰه سره په (۵۶)کښ بیا زجردے په شرك بالملائکه سره دَ (۵۷) نه تر(۶۰) پورے بیا تخویف دنیوی دے په (۶۱)کښ بیا زجربالشرك دے په (۶۲)کښ بیا زجراوتخویف دے په اتباع شیطان سره (۶۳)کښ بیا ترغیب دے قران ته په (۶۴)کښ۔ پدے ایت (۴۸)کښ سجده دَ سوروذکرکړے شوے ده اومراد دَ سجدے نه ګرځیدل دَ سورو اوکمیدل اوزیاتیدل دَ سوروپه حکم دَ اللّٰه تعالیٰ سره دی په دے ایت کښ یمین ئے مفرد وئیلے دے اوشمائل ئے جمع وئیلے دے ځکه چه شروع کیدل دَ سوری دَ یمین نه دی په یوحال کښ بیا شمال طرف ته ګرځی لږلږپه مختلفوحالاتوکښ۔ دویمه نکته دا ده چه په عرب کښ هرکله مخ کړے مشرق طرف ته نو یمین طرف ته لږ وطنونه دی اوشمال طرف ته ډیرملکونه دی (واللّٰه اعلم) ﴿مِنْ شَيْءٍ﴾ نه مراد اجسام دی اودارنګ په سورة رعد (۱۵)کښ هم ذکر دی۔

[۴۹] دا ایت هم دَ مخکښ دَلاندے داخل دے یعنی په دیکښ تعمیم دے روستودَ تخصیص نه ﴿مِنْ دَآبَّةٍ﴾ ظاهردا ده چه دا شامل دے اهل دَآسمانونواوزمکودواړوته په دلیل دَسورة شوریٰ (۲۹) سره او﴿وَالْمَلٰٓئِكَةُ﴾تخصیص بعدالتعمیم دے دَپاره دَ ردپه مشرکین بالملائکه باندے اودآبةٍ په معنیٰ دساه والاده نوملائکوته هم وئیلے شی اودویمه توجیه دا ده چه په ایت کښ لف نشرغیرمرتب دے یعنی من دآبةٍ بیان دَمافی الارض دے او والملائکة بیان دَمافی السموات دے﴿وَهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ﴾ دا دلیل دے چه ابلیس دَملائکونه نه ووځکه چه هغه استکبارکړے وو۔

[۵۰] په دے ایت کښ سرهٔ دَ مخکښ نه دَملائکودرے صفات ذکردی اول عجزدَ هغوی دویم خوف دَ هغوی دریم انقیاد دَامردَ اللّٰه تعالیٰ﴿فَوْقِهِمْ﴾ فوق په صفت دَ اللّٰه تعالیٰ کښ دے په اعتبار دَمعنیٰ سره محکم دے اوپه اعتبار دَکیفیت سره متشابه دے تاویل کول په غلبه سره اودارنګ تشبیه اوتمثیل دَ دے دَ صفت دَ مخلوق سره دواړه غلط دی۔

وَّاحِدٌ ۚ فَاِيَّايَ فَارْهَبُوْنِ ﴿۵۱﴾ وَلَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَلَهُ الدِّيْنُ وَاصِبًا ؕ اَفَغَيْرَ اللّٰهِ تَتَّقُوْنَ ﴿۵۲﴾
وَمَا بِكُمْ مِّنْ نِّعْمَةٍ فَمِنَ اللّٰهِ ثُمَّ اِذَا مَسَّكُمُ الضُّرُّ فَاِلَيْهِ تَجْـَٔرُوْنَ ﴿۵۳﴾ ثُمَّ اِذَا كَشَفَ الضُّرَّ عَنْكُمْ اِذَا
فَرِيْقٌ مِّنْكُمْ بِرَبِّهِمْ يُشْرِكُوْنَ ﴿۵۴﴾ لِيَكْفُرُوْا بِمَآ اٰتَيْنٰهُمْ ؕ فَتَمَتَّعُوْا ۫ فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ﴿۵۵﴾ وَيَجْعَلُوْنَ
لِمَا لَا يَعْلَمُوْنَ نَصِيْبًا مِّمَّا رَزَقْنٰهُمْ ؕ تَاللّٰهِ لَتُسْـَٔلُنَّ عَمَّا كُنْتُمْ تَفْتَرُوْنَ ﴿۵۶﴾ وَيَجْعَلُوْنَ لِلّٰهِ

یو دے پس خاص ځما نه یره کوئ (۵۱) اوخاص دَهغه په اختیار کښے دی هغه څیزونه چه په اسمانونو او زمکه کښے دی اوخاص اللّٰه تعالیٰ لره تابعداری لازم ده ایا پس سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه یریږئ تاسو (۵۲) اوهغه چه په تاسو باندے څه نعمت دے نو دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه دے بیا هم چه کله اورسیږی تاسوته مصیبت پس هغه ته خاص فریاد کوئے تاسو(۵۳) بیا چه کله لرے کړی مصیبت ستاسو نه نویوډله ستاسو دَخپل رب سره شریکان جوړوی(۵۴) (عاقبت داشو) چه نا شکری اوکړی دوی دَهغه نعمت چه مونږ دوی ته ورکړے دے پس مزے واخلئ پس زردے چه پوهه به شئ تاسو (۵۵) او مقرره وی دوئ هغه چاڼه چه هغوی پوهه نه لری برخه دَهغه مال نه چه مونږ دوی له ورکړیدی قسم دے په اللّٰه تعالیٰ خامخا تپوس به اوکړیشی ستاسونه دَهغه څه چه دروغ جوړوئ تاسو(۵۶) او مقرره وی دوی اللّٰه تعالیٰ لره

[۵۱] په دے ایت کښ دلیل وحی دے دَپاره دَ رد دَشرك اومعطوف دے په معنیٰ دَ ماقبل باندے په طریقه دَ دلیل سره یعنی اللّٰه تعالیٰ فرمائیلی دی چه سجده ځمانه سیوا بل چاته مکوئے ځکه چه سجده حق دَ اله دے اواللّٰه تعالیٰ فرمائیلی دی چه دویم اله نیشته۔ اوهرکله چه مشرکان اکثراوقاتو کښ دَ یرے په وخت کښ خپلواڼهو(معبودانو) ته سجدے کوی دَ دے وجے نه اوفرمائیل﴿فَاِيَّايَ فَارْهَبُوْنِ﴾اواڼین ئے دَتاکید دَپاره دَ دے وجے نه ذکرکړوچه نفی دَتعدّد مراد ده نفی دَ الوهیت نه ده مراد۔

[۵۲] دا دلیل عقلی دے اولام په ﴿لَهٗ﴾ کښ دَپاره دَاختیاراودَپاره دَانقیاد دے ﴿الدِّيْنُ﴾ په معنیٰ دَعبادت دے یعنی متصرف خاص اللّٰه تعالیٰ دے نومعبودهم خاص هغه دے ﴿وَاصِبًا﴾ لازم اوهمیشه اوخاص ته وئیلے شی﴿تَتَّقُوْنَ﴾ تقویٰ په اصل کښ توحید دَعبادت ته وئیلے شی نودلته ئے دَ الدین (چه په معنیٰ دَ عبادت دے) دَمناسبت دَ وجے نه تقویٰ ذکرکړیده۔

[۵۳] په دے کښ هم دلیل عقلی دے مَا موصوله دے اومِن دَپاره دَاستغراق دے نوهرنعمت ظاهری اوباطنی اوبدنی اومالی، صحت، عافیت، مالدارئ وغیره ته شامل دے ﴿فَاِلَيْهِ تَجْـَٔرُوْنَ﴾ یعنی عقیده دَمشرك په وخت دَتکلیف کښ دا ده چه مصیبتونه لرے کوؤنکے دَ اللّٰه تعالیٰ نه سیوا بل څوك نیشته جَوَار اواز دَ سخی یا اواز دَکُتری (دَ سپی بچے) دے په وخت دَ سختئ کښ مراد ترینه چغے وهل په ډیرے عاجزئ سره دی۔

[۵۴،۵۵] دا ایتونه هم په زجرکښ داخل دی حاصل دا دے چه په وخت دَتکلیف کښ اللّٰه تعالیٰ ته عاجزی کوی او هرکله چه اللّٰه تعالیٰ دَ دوی عاجزی قبوله کړی اوتکلیف ترینه لرے کړی نودوی شرك کوی یعنی بیانسبت دَلرے کولودَ تکلیف دَاللّٰه تعالیٰ نه سیوابل چاته کوی ﴿فَتَمَتَّعُوْا﴾کښ اشاره ده چه اللّٰه تعالیٰ دَ دے مشرکانو دُعا دَ دے وجے نه قبلوی چه دا دنیا متاع ده اومتاع کافرانوته هم ملاویږی۔

الْبَنٰتِ سُبْحٰنَهٗ ۙ وَلَهُمْ مَّا يَشْتَهُوْنَ ﴿۵۷﴾ وَاِذَا بُشِّرَ اَحَدُهُمْ بِالْاُنْثٰى ظَلَّ وَجْهُهٗ مُسْوَدًّا وَّهُوَ
كَظِيْمٌ ﴿۵۸﴾ يَتَوَارٰى مِنَ الْقَوْمِ مِنْ سُوْٓءِ مَا بُشِّرَ بِهٖ ؕ اَيُمْسِكُهٗ عَلٰى هُوْنٍ اَمْ يَدُسُّهٗ فِى التُّرَابِ ؕ
اَلَا سَآءَ مَا يَحْكُمُوْنَ ﴿۵۹﴾ لِلَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ مَثَلُ السَّوْءِ ۚ وَلِلّٰهِ الْمَثَلُ الْاَعْلٰى ؕ

لونړه پاك دے اللّٰه تعالیٰ او وی دے دوی لره هغه څه چه دوی غواړی(۵۷) او کله چه زیرے ورکړیشی یوتن دَ دوی ته په لورسره شی مخ دَ هغه تور اوهغه دَغصے نه ډك وی (۵۸) ځان پټوی دَ قوم نه دَوجے دَناکاره زیری نه چه دهٔ ته ورکړے شوے دے (سوچ کوی) چه ایا اوساتی هغه (بچے) په ذلت سره او که ژوندے اومنډی په خاورو کښے خبر شئ ناکاره ده هغه فیصله چه دوئ ئے کوی (۵۹) هغه چا لره چه ایمان په آخرت نه لری ناکاره حال دے او اللّٰه تعالیٰ لره خاص دے صفت اوچت

دارنګ په سورۃ روم ایت(۳۳) او(۳٤) کښ هم دی۔

[۵٦] په دے ایت کښ زجردے په نذرکولودپاره دَغیراللّٰه، اودا عطف دے په یشرکون باندے اودَ هغے تفسیردے اودارنګ په سورۃ انعام ایت(۱۳٦)کښ هم دی ﴿كُنْتُمْ تَفْتَرُوْنَ﴾ دَ دے نه مراد هغه قصے مشرکانه اومسائل شرکیه دی ﴿لَا يَعْلَمُوْنَ﴾ ضمیرراجع دے مَاته چه هغه په معنیٰ دَمعبودانودے یعنی معبودان هیڅ علم دَ دوی دَ نذرونونه لری یا ضمیرراجع دے عابدانوته یعنی دوی دَمعبودانودَ حال نه خبرنه لری چه هغوی خوعاجزدی اوڅه نه اوری اونه وینی﴿مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ﴾ مراد دَ دے نه دَخوراك اوڅښاك ځیزونه اوڅاروی اوغلے کپړے وغیره دَ غیراللّٰه په نوم باندے نذرکول دی۔

[۵۷] دا هم په ما قبل باندے عطف دے اوبل قسم شرك باندے ردکوی نوپه دے ایت کښ زجردے په مشرکین بالملائکة باندے چه هغوی ملائك بنات دَاللّٰه تعالیٰ ګڼړی اودا په مشرکین عرب کښ بعضِ قبیلے وے اوهم دارنګ ذکردی په سوره صٰفات ایت (۱٤۹)کښ اوسورۃ زخرف ایت (۱٦)کښ اوسورۃ طور ایت (۳۹)کښ۔

[۵۸] پدیکښ رد دے په رسم دَجاهلیت چه هغوی به په لوراوخورپیداکیدوبدګنړل او﴿كَظِيْمٌ﴾ هغه غمژن ته وائي چه دَ غم دَ وجے نه خبرے نشی کولے ﴿بُشِّرَ﴾ بشارت اول خبردَخوشحالئے ته وئیلے شی اودلته په معنیٰ دَحرف اول خبرسره دے ځکه دوی په دے خبرباندے خوشحالی نه کوله۔

[۵۹] په دے ایت کښ طریقه دَجاهلیت ذکرده چه کله به خبرشول په پیدائش دَ لوربانډے نوپټیدل به دَوجے دَشرم نه اوفکر به ئے کوؤ چه ایا اوساتی ئے سره دَذلت نه او که ژوندئے ئے دفن کړی ﴿اَيُمْسِكُهٗ﴾ دَ دے نه مخکښ تقدیردے په عبارت کښ یعنی یتفکر او، هٗ ضمیردَمذکرئے حرف دَ مَابُشِّرَته راجع کړے دے۔ ﴿هُوْنٍ﴾ معنیٰ داچه لورپه ذلت سره ساتی نارینه بچی په هغے باندے غوره کوی زنانه له میراث نه ورکوی۔

وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿٦٠﴾ وَلَوْ يُؤَاخِذُ اللّٰهُ النَّاسَ بِظُلْمِهِمْ مَّا تَرَكَ عَلَيْهَا مِنْ دَآبَّةٍ وَّلٰكِنْ
يُّؤَخِّرُهُمْ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى ۚ فَاِذَا جَآءَ اَجَلُهُمْ لَا يَسْتَاْخِرُوْنَ سَاعَةً وَّلَا يَسْتَقْدِمُوْنَ ﴿٦١﴾ وَيَجْعَلُوْنَ
لِلّٰهِ مَا يَكْرَهُوْنَ وَتَصِفُ اَلْسِنَتُهُمُ الْكَذِبَ اَنَّ لَهُمُ الْحُسْنٰى ؕ لَا جَرَمَ اَنَّ لَهُمُ النَّارَ وَاَنَّهُمْ
مُّفْرَطُوْنَ ﴿٦٢﴾ تَاللّٰهِ لَقَدْ اَرْسَلْنَآ اِلٰٓى اُمَمٍ مِّنْ قَبْلِكَ فَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطٰنُ اَعْمَالَهُمْ

او هغه زوره ور اوحکمتونو والا دے (٦٠) اوکه نیولے اللّٰه تعالیٰ خلقو لره په سبب دَظلم دَهغوی نه به وے پریخودلے په دے زمکه باندے هیڅ زنده سر لیکن روستو کوی اللّٰه تعالیٰ دوی لره ترنیټے مقرر پورے پس کله چه راشی نیټه دَ دوئ نه به روستو کیدے شی یوساعت اونه به مخکښے کیدے شی(٦١) او مقرر کوی دوی اللّٰه تعالیٰ لره هغه څه چه دوئ(ځان له) بدګنړی او وائی ژبے دَ دوی دروغ چه یقیناً شته دوی لره خوشحالی خامخا شته دوی لره صرف اوراودوی به ورته مخکښے اوغورځولے شی(٦٢) قسم په اللّٰه تعالیٰ یقیناً لیږلی دی مونږ ډیرو امتونوته ستانه پخوا(رسولان) پس خائسته کړو دوی ته شیطان (ناکاره) عملونه دَدوی

[٦٠] په دے ایت کښ زجردے مشرکین بالملائکة ته ﴿مَثَلُ السَّوْءِ﴾ ناکاره صفت اوحال چه مراد دَ هغے نه جهل اوکفر وغیره دے او ﴿الْمَثَلُ الْاَعْلٰى﴾ مراد ترینه اوچت صفات دی که صفات ثبوتی وی لکه خالق اورازق، عالم، اوقادریا صفات سلبیه وی چه شریك ئے نیشته ولد ئے نیشته مثل ئے نیشته۔

[٦١] په دے ایت کښ تخویف دنیوی دے اوجواب دَسوال دے هرکله چه ظلمونه دَمشرکانوذکرشول نوسوال اوشوچه په دوی باندے عذابونه ولے نه راځی دَ دے ظلمونوپه سبب سره نوپه دے ایت کښ دَهغے جواب دے۔ اومطلب دَ ایت دا دے که اللّٰه تعالیٰ مخلوقات نیولے په ګناهونودَګناه ګاروسره اومعافی اوتاخیرئے نه کولے نوبارانونه اوبوټی به ئے بندکړے وے نوزنده سربه مړه وے اودارنګ په سورة فاطر ایت (٤٥) کښ ذکردی ﴿فَاِذَا جَآءَ اَجَلُهُمْ﴾ داسے په سورة اعراف (٣٤) اوسورة یونس (٤٩) کښ ذکر شویدی۔

فائده: هرکله چه په سورة اعراف اوپه دے سورة کښ فَاپه اذا باندے داخله کړه نوپه جزاباندے فَاداخله نکړه دَپاره دَ دے چه کلام کښ فصاحت کم نشی اوسورة یونس کښ اوله فَاء نیشته نوفَاء ئے په جزاباندے داخله کړله بیا هرکله چه په سورة یونس کښ صریح سوال دَعذاب ذکروؤنوپه جواب کښ فا ذکرنه کړه اوپه دے سورة اوسورة اعراف کښ سوال مذکورنه دے دَ دے وجے فَاء ذکرشویده واللّٰه اعلم بحکمه۔

[٦٢] په دے کښ زجردے په شرك باندے سره دَ دروغ دعویٰ کولونه چه دوی لره حُسنیٰ ده یعنی په دنیاکښ خوشحالئے او په اخرت کښ ثواب اوجنت دے ﴿مَا يَكْرَهُوْنَ﴾ نه مراد لونړه دی اوشریك دے اودا دواړه عام خلق بدګنړی ﴿مُفْرَطُوْنَ﴾ دَفرط نه ماخوذ دے یعنی مخکښ به لیږلے کیږی یا په جلتئے به ځی اورته یا هیربه کړے شی دا ټولے معانے جائزدی۔

فَهُوَ وَلِيُّهُمُ الْيَوْمَ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۶۳﴾ وَمَآ اَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتٰبَ اِلَّا لِتُبَيِّنَ لَهُمُ
الَّذِى اخْتَلَفُوْا فِيْهِ ۙ وَهُدًى وَّرَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۶۴﴾ وَاللّٰهُ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَحْيَا
بِهِ الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ؕ اِنَّ فِىْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّقَوْمٍ يَّسْمَعُوْنَ ﴿۶۵﴾ ع وَاِنَّ لَكُمْ فِى الْاَنْعَامِ لَعِبْرَةً ؕ
نُسْقِيْكُمْ مِّمَّا فِىْ بُطُوْنِهٖ مِنْۢ بَيْنِ فَرْثٍ وَّدَمٍ لَّبَنًا خَالِصًا سَآئِغًا لِّلشّٰرِبِيْنَ ﴿۶۶﴾ وَمِنْ ثَمَرٰتِ

پس هغه دَ دوی ملګرے دے نن ورځ او دوئ لره عذاب درد ناك دے (٦٣) اونه دے نازل کړے مونږ په تاباندے کتاب (قرآن) مګر دپاره دَ دے چه تشریح اوکړے ته دوی ته دَهغه خبرو چه دوی اختلاف کړیدے په هغے کښ او هدایت او رحمت دے دپاره د هغه قوم چه ایمان لری (٦٤) او اللّٰه تعالٰی راورولی دی دَ بره طرف نه اوبه پس تازه کړے ده په هغے سره زمکه پس دَ اوچوالی دَهغے نه یقیناً په دے کښے لوئے دلیل دے هغه قوم لره چه اوری (٦٥) او یقیناً تاسو لره په څارۆ کښے عبرت دے څښکوو مونږ تاسوته دَهغے نه چه دَ دے په خیټو کښے دی دَمینځ دَغوشانو او دَوینے نه پئ صفا اسان تیریدونکی دپاره دَ څښکونکو (٦٦) او دَ میۆو

[٦٣] په دے آیت کښ تسلّی ده رسول ته سره دَ زجراوتخویف نه منکرینوته اوسبب دَګمراهئی ذکر کړے دے یعنی دوی چه وائي چه زمونږحسنیٰ ده سره دَشرك نه نوداورته شیطان خائسته کړیده چه شرك اوبدعات خوښه کارونه دی اوثواب دے اودَ ﴿فَزَيَّنَ﴾ نسبت شیطان ته په اعتباردَ وسوسودَ هغه دے ﴿فَهُوَ وَلِيُّهُمُ الْيَوْمَ﴾ دَ دے یوتوجیه دا ده چه ضمیردَ هُم اُمم ته راجع دے اودَ الیوم نه مراد ژوند دَ دنیا دے یا ورځ دَ قیامت ده۔ دویمه توجیه دا ده چه هُم ضمیرمشرکانوته راجع دے یعنی دا شیطان لکه چه دوست وۆ دَمخکنو خلقونونن زمانه کښ دَ موجوده مشرکانوهم دوست دے۔

[٦٤] هرکله چه تسلی رسول ته ذکرشوه مخکښ ایت کښ نو پدے ایت کښ تشجیع ده رسول اللّٰهﷺ ته په تبلیغ دَ قرآن سره ۔اَلَّذِى اخْتَلَفُوْا فِيْهِ، نه مراد مسئله دَ توحید او دَ بعث بعد الموت وغیره ده او دا ایت دلیل دے چه په قرآن کښ اختلافی مسئلے فیصله کیږی۔

[٦٥] دَ دے آیت نه څلورم باب دے ترآیت (٧٨) پورے په دے باب کښ شپږعقلی دلیلونه دی چه په هغے کښ پیدائش دَ منافعودَ اشیاؤ ذکردے یعنی خوراك اوښښکاك اوبیبیانے اواولاد۔ په آیت (٦٥) کښ اوبهٔ دَباران اوبوټی ذکرشوی دی اوآیت (٦٦) کښ پئی ذکرشویدی اوآیت (٦٧) کښ عصیراوشربتونه ذکرشویدی اوآیت (٦٨) کښ ګبین ذکرشویدے اوآیت (٧٠) کښ خلق دَ نفوس ذکرشویدے اوآیت (٧٢) کښ خلق دَ بیبیانو اواولاد ذکرشویدے بیا بیان دَمثال دے دپاره دَ رد دَشرك په (٧١) کښ بیا زجردے په شرك فی العبادة په آیت (٧٣) کښ بیا منع ده دَ امثالوشرکیۆنه په آیت(٧٤) کښ، بیا دوه مثالونه دی دَ رد دَ شرك دَپاره آیت(٧٤،٧٥) کښ، بیا تخویف اُخروی دے په (٧٧) کښ۔ په آیت کښ ﴿يَسْمَعُوْنَ﴾ ذکرکړیدے په دے کښ اشاره ده چه په دے مقام کښ لیدل ضروری نه دی اوریدل هم کافی کیږی۔ یعنی باران وریدل اوبوټی اوفصلونه ټوکیدل په هرځائے کښ نه وی خوچه صرف واوری نودا کافی ده۔

[٦٦] دا دلیل عقلی دے په ذکردَنعمت دَپیۆسره اودَبین فرثٍ وَّدَمٍ مطلب دا دے چه دَګیاه وغیره دَخوراك

النَّخِيْلِ وَالْاَعْنَابِ تَتَّخِذُوْنَ مِنْهُ سَكَرًا وَّ رِزْقًا حَسَنًا ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ﴿۶۷﴾
وَاَوْحٰى رَبُّكَ اِلَى النَّحْلِ اَنِ اتَّخِذِيْ مِنَ الْجِبَالِ بُيُوْتًا وَّمِنَ الشَّجَرِ وَمِمَّا يَعْرِشُوْنَ ﴿۶۸﴾ ثُمَّ كُلِيْ
مِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ فَاسْلُكِيْ سُبُلَ رَبِّكِ ذُلُلًا ؕ يَخْرُجُ مِنْۢ بُطُوْنِهَا شَرَابٌ مُّخْتَلِفٌ اَلْوَانُهٗ
فِيْهِ شِفَآءٌ لِّلنَّاسِ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ﴿۶۹﴾ وَاللّٰهُ خَلَقَكُمْ ثُمَّ يَتَوَفّٰىكُمْ ۙ

دَ کھجورو او انګورونه جوړه وئ تاسو دَ هغے نه سرکه او خوراك ځائسته یقیناً په دے کښے شته لوئے دلیل هغه قوم لره چه عقل نه کار اخلی (٦٧) اوپه زړه کښے واچوله رب ستا تورے مچے ته چه جوړوه ته دَغرونو نه کورونه او دَ ونونه او دَهغے نه چه دا خلق ئے اباده وی (٦٨) بیا خوره دَ هر قسم میؤو نه پس روانه شه په لارو دَ رب ستاچه اسانے دی تانه راوځی دَخیټو دَهغوی نه دَځښکلوخیز چه مختلف دی رنګونه دَهغے په هغے کښے علاج دے خلقو لره یقیناً په دے کښے لوئے دلیل دے هغه قوم لره چه فکر کوی (٦٩) او اللّٰه تعالیٰ پیدا کړی ئے تاسو بیا به مړه کوی تاسو

نه بعضِ حصه لری ته لاړه شی اوفرش ترے جوړشی اوبعضِ حصه وینه جوړه شی اودَویني نه پئی جوړیږی۔ اودویم مطلب دا دے چه خوراك کله لری ته اورسیږی نوپوخ ئے کړی نولاندے فرش مینځ کښ پئی اودَپاسه وینه شی اودَکبدپه ذریعه وینه په رګونو کښ لاړه شی اوپئی غولانځے ته لاړشی اوفرش په لری کښ پاتے شی۔

فائده: په دے آیت کښ بطونِهٖ ضمیرمذکر راوړے دے اوپه سورة مؤمنون آیت(٢١) کښ ضمیرمؤنث راوړے دے نودلته کښ په تاویل دَکل واحد سره دے په سورة مؤمنون کښ په اعتبارد ظاهری جمع سره دے بیا دَ دے فرق کولوپوحکمت دا معلومیږی چه په دے سورة کښ صرف یوفائده دَ ځاروی ئیے ذکرکړے ده اوپه سورة مؤمنون کښ نورے فائدے هم ذکرکړی دی۔ نودلته دَ فائدے دَیو والی دَ وجے نه اکتفاء اوشوه په ضمیرمفرد باندے اوپه سورة مؤمنون کښ دَکثرت دَ فائدو دَ وجے لحاظ دَجمعے اوکړیشو۔

[٦٧] په دے کښ دلیل عقلی دے اومراد دَ ﴿سَكَرًا﴾ نه سکرشراب دی لیکن دَ دے ایت دَ نزول په وخت کښ خمرنه وؤ حرام کړے شوی یا داده چه مراد دَسکرنه عصیردے اوسکر ئے ورته په دے وجه وئیلی دی چه داعصیرځه وخت پورے باقی پاتے شی نوکله ترینه مسکرجوړشی یا مراد دَ سَکَرًا نه سرکه ده اومراد دَ رزق حَسَن نه ټول دَ خوراك اودَ ځښکاك ځیزونه دی چه جوړیږی دَ دے دواړونه، اونشه پکښ نه وی اودا ایت په اوله معنیٰ دَسکرسره دلیل دے چه خمرپه انګوروپورے خاص نه دے بلکه دَکجورونه هم جوړیږی بلکه دَ نورځیزونونه هم جوړیږی (وربشے، جواروغیره) لیکن دَ دے دوؤذکرئیے دَ دے وجے نه اوکړوچه په عرب کښ دا ډیر وو اوهرکله چه دَ دے ځیزونوجوړول عقل غواړی دارنګ دَسکر وغیره تعلق دَعقل سره دے دَ دے وجے نه یعقلون ئیے په آخرکښ ذکرکړے دے۔

[٦٨،٦٩] دا هم دلیل عقلی دے په بیان دَ نعمت دَکښین سره اوپه اول ایت کښ ذکردے دَمکان جوړولودَنحل دَغرونواودَ ونونه اوهغه غیرمملوك وی اودَ اباودَخلقونه، اوهغه مملوك وی اوپه دویم ایت کښ دَجوړیدلودَعسل اوراوتلودَعسلوذکر کړیدے اولفظ دَ ﴿بُطُوْنِهَا﴾ ظاهراً دلالت کوی چه دا دَلاندے طرفنه را اوځی لیکن صحیح دا ده چه دَهغے دَ راوتلوطرف معلوم نه دے ﴿فِيْهِ شِفَآءٌ لِّلنَّاسِ﴾ شفاء نکره ده

وَمِنْكُمْ مَّنْ يُّرَدُّ اِلٰٓى اَرْذَلِ الْعُمُرِ لِكَيْ لَا يَعْلَمَ بَعْدَ عِلْمٍ شَيْـًٔا ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌ قَدِيْرٌ ۝۷۰ وَاللّٰهُ
فَضَّلَ بَعْضَكُمْ عَلٰى بَعْضٍ فِى الرِّزْقِ ۚ فَمَا الَّذِيْنَ فُضِّلُوْا بِرَآدِّيْ رِزْقِهِمْ عَلٰى مَا مَلَكَتْ
اَيْمَانُهُمْ فَهُمْ فِيْهِ سَوَآءٌ ؕ اَفَبِنِعْمَةِ اللّٰهِ يَجْحَدُوْنَ ۝۷۱ وَاللّٰهُ جَعَلَ لَكُمْ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ
اَزْوَاجًا وَّجَعَلَ لَكُمْ مِّنْ اَزْوَاجِكُمْ بَنِيْنَ وَحَفَدَةً وَّرَزَقَكُمْ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ ؕ اَفَبِالْبَاطِلِ يُؤْمِنُوْنَ

او بعضے ستاسو نه داسے دی چه اورسولے شی ناکاره عمرته (عاقبت داشی) چه نه پوهیږی روستو دَ پوهے نه په هیڅ ځیز باندے یقیناً اللّٰه تعالیٰ پوهه دے قدرت والا دے (۷۰) او اللّٰه تعالیٰ غوره والے درکړے بعضے ستاسوته په بعضو باندے په خوراك کښے پس نه دی هغه ځوك چه غوره کړے شوی دی ورکؤونکی دَمال خپل نه مریانو او وینځو ته پس چه هغوی دَ دوی سره برابر شی (په اختیار کښے) ایاپس دَ نعمت دَاللّٰه تعالیٰ نه دوی انکار کوی(۷۱)او اللّٰه تعالیٰ پیدا کړیدی تاسو لره ستاسو دَجنس نه جوړئے اوپیدا کړیدی تاسو لره ستاسو دَبیبیانونه ځامن او نوسی او خوراك ئے درکړے دے ښه پاك ځیزونه ایا پس په باطل (معبودانو) باندے ایمان لرئ

په مقام دَاثبات کښ ده نوعموم نه فائده کوی نومعلومه شوه چه په دیکښ علاج دے دَبعضِ مرضونولیکن بعض سلفوصالحینودَحسن نیت په وجه په عموم باندے حمل کړے دے اودا ایت دلیل دے په دے خبره چه علاج کول دَمرضونودَپاره جائزدے اودَتوکل نه خلاف نه دی ﴿وَاَوْحٰى﴾ دلته دَایحاء نه مراد دَ مچئے په فطرت کښ داعلم پیداکول دی﴿ذُلُلًا﴾ په دے کښ اشاره ده مچئے ته واپسی خپل ځائے ته اسانه وی لارترینه نه روکیږی ﴿شَرَابٌ﴾ پدیکښ اشاره ده چه عسل په طریقه دَمشروب سره استعمالول ډیر فائده مند دی ﴿يَتَفَكَّرُوْنَ﴾ پدیکښ اشاره ده چه دَ نحل دَکښین نه فائدے اخستل اودَ هغے نه مختلفے نسخے او دواء جوړول دَ فکروالوکار دے۔

[۷۰] په دے کښ هم دلیل عقلی دے ﴿اَرْذَلِ الْعُمُرِ﴾ دَ دے نه مراد داسے حال دے چه دَانسان قوتونه ناقص شی اوعقل ئے بے کاره شی اوعلم اوبوهه ترینه زائله شی اودے ته هرم هم وائي۔ اوحدیث صحیح کښ راغلی دی چه اعوذبك من الهرم اوبعضومفسرینووئیلی دی چه دا حال په مؤمن باندے نه راځی په دلیل دَسورة تین ایت (٦،٥) اودارنګ دَسورة حج په ایت (٥)کښ هم دی﴿اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌ﴾ پدیکښ اشاره ده چه دَاللّٰه تعالیٰ په علم کښ هیڅ نقصان نه راځی ﴿قَدِيْرٌ﴾کښ اشاره ده چه خلق او وفات اوبودا کول دلیلونه دَقدرت دَاللّٰه تعالیٰ دی۔

[۷۱] هرکله چه مخکښ ایاتونوکښ دَ رزق ځیزونه ذکرکړل نواوس دَ رزق تفاوت ذکرکوی نودَ دے ایت په اوله جمله کښ تصریح ده په دے خبره چه نظام دَ اللّٰه تعالیٰ په طریقه دَتفاوت سره دے چه ځوك ئے غنی جوړ کړے دے اوځوك ئے فقیراو ځوك ازاد اوځوك مرئے اودارنګ په سورة انعام ایت (١٦٥) اوسورة زخرف ایت(٣٢) کښ دی اوبیا په دے ایت کښ مثال دے دَ رد دَشرك دَپاره دَوجے دَتفاوت دَرزق نه او دارنګ ذکردے په سورة روم ایت (٢٨) کښ، حاصل دَمثال دا دے چه هیڅرے یومالك په تاسوکښ خپل مملوك لره دومره مال نه دے ورکړے چه دَځان سره ئے په اختیارکښ برابرکړے وی نوځه رنګ وائي

وَبِنِعْمَتِ اللّٰهِ هُمْ يَكْفُرُوْنَ ﴿۷۲﴾ وَيَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَمْلِكُ لَهُمْ رِزْقًا مِّنَ
السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ شَيْـًٔا وَّلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ ﴿۷۳﴾ فَلَا تَضْرِبُوْا لِلّٰهِ الْاَمْثَالَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ وَاَنْتُمْ
لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۷۴﴾ ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا عَبْدًا مَّمْلُوْكًا لَّا يَقْدِرُ عَلٰى شَيْءٍ وَّمَنْ رَّزَقْنٰهُ مِنَّا رِزْقًا

او دَنعمت دَ اللّٰه تعالیٰ نه انکار کوئ (۷۲) او بندګی کوی دوی سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه دَهغه چاچه نشی ورکولے دوی ته روزی دَ آسمانونونه او دَزمکے نه هیڅ قسم اونه ئے وس رسی (۷۳) پس مه بیانوئ اللّٰه تعالیٰ لره مثالونه یقیناً اللّٰه تعالیٰ پوهه لری او تاسو پوهه نه لرئ (۷٤) بیان کړیدے اللّٰه تعالیٰ مثال بنده مړئ وس نه لری په هیڅ ځیز باندے اوهغه څوك چه رزق ورکړے دے مونږ هغه ته دَخپل طرف نه رزق

مشرکان چه اللّٰه تعالیٰ بعض بندګانولره چه هغه دَاللّٰه تعالیٰ مملوك دی لکه ملائك اوانبیاء اواولیاء دومره اختیار ورکړے دے چه دَځان سره ئیے په تصرف کښ برابرکړے وی اوهغوی هم دَخلقوحاجت روائ اومشکل کشائ کوی دَاللّٰه تعالیٰ په شان۔ دا دَ اللّٰه تعالیٰ دَ نعمتونونه انکاردے اوپه دے مثال کښ اشاره ده رد دَشرك عطائ ته۔

[۷۲] په دے کښ هم دلیل عقلی دے په بیان دَنعمت دَ ازواجواودَ اولادسره ﴿مِنْ اَنْفُسِكُمْ﴾ معنٰی دا ده چه ستاسودَ جنس نه اوپه دے کښ اشاره ده دے خبرے ته چه نکاح دَانسانانِ دَپیریانوسره نه کیږی ځکه چه دَجنس مخالفت دے ﴿حَفَدَةً﴾ مراد دَ دے نه نوسی اوخدمتګاران دی ځکه چه خفد په اصل کښ خدمت ته وئیلے کیږی اوپه لفظ دَ لَکُم کښ اشاره ده دیته چه اولادبه په نسب کښ دَپلار تابع وی ﴿اَفَبِالْبَاطِلِ﴾ مراد دَ دینه معبودان باطله دی چه مشرکان په هغوی باندے عقیده لری چه ښځے اوځامن اومالونه مونږلره زمونږمعبودانوراکړیدی اواللّٰه ته نسبت نه کوی۔

[۷۳] په دے ایت کښ زجردے په شرك فی العبادت اوپه شرك فی التصرف باندے اوداتفسیردے دَتیرشوی ایت چه اَفَبِالْبَاطِلِ يُؤْمِنُوْنَ یعنی په باطل باندے دَیقین کولونبنه دا ده چه دَهغوی بندګی کوی سجدے، طوافونه، نذرونه دَقبرونوکول اونورافعال شرکیه ﴿لَا يَمْلِكُ لَهُمْ رِزْقًا مِّنَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ﴾ یعنی باران وَروَل اودَ زمکے نه بوټی اوفصلونه راویستل دَځان دَپاره اختیارنه لری ﴿وَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ﴾ دَبل چادَپاره هم وس نه لری۔ یا دا چه اوس هم اختیارنه لری او ائینده دَپاره هم اُمیدنیشته۔

[۷٤] په دے ایت کښ رد دے په هغه ټولومشرکانواو کافرانوچه تشبیه دَاللّٰه تعالیٰ ورکوی دَمخلوق سره مثلاً وائ چه مخلوق ته بغیرد وسیلے نه رسیدل نه شی کیدے اودَمخلوق دَپاره سفارش کوونکے پکاردے چه هغه مخؤریزیا دوست وی دَ پاره دَمشفوع الیه، نودارنګ اللّٰه تعالیٰ ته بغیردَوسیلے نه رسیدل نه شی کیدے اونیکان بندګان شفیع قهری ګنړی، اودارنګ په دے ایت کښ رد دے په مجسموؤ اومشبهوباندے چه دَاللّٰه تعالیٰ دَصفتونوتشبیه ورکوی دَمخلوق سره اوهغه له جسم ثابتوی اودارنګ په سورة شوریٰ (۱۱) اوسورة الاخلاص (٤) کښ دی﴿اِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ﴾ داعلت دَماقبل دے یعنی دَاللّٰه تعالیٰ قیاس په مخلوق باندے نشی کیدلے مخلوق په هرڅه نه پوهیږی(دَمحتاج په حاجت اوحالت باندے علم نه لری) دَدے وجے نه هغه وسیلے ته محتاج دے اواللّٰه تعالیٰ په هرڅه باندے علم لری دارنګ اللّٰه تعالیٰ په خپل

حَسَنًا فَهُوَ يُنْفِقُ مِنْهُ سِرًّا وَّجَهْرًا ؕ هَلْ يَسْتَوٗنَ ؕ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ؕ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٧٥﴾
وَضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا رَّجُلَيْنِ اَحَدُهُمَآ اَبْكَمُ لَا يَقْدِرُ عَلٰى شَيْءٍ وَّهُوَ كَلٌّ عَلٰى مَوْلٰىهُ ۙ اَيْنَمَا
يُوَجِّهْهُّ لَا يَاْتِ بِخَيْرٍ ؕ هَلْ يَسْتَوِيْ هُوَ ۙ وَمَنْ يَّاْمُرُ بِالْعَدْلِ ۙ وَهُوَ عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿٧٦﴾ وَلِلّٰهِ
غَيْبُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَمَآ اَمْرُ السَّاعَةِ اِلَّا كَلَمْحِ الْبَصَرِ اَوْ هُوَ اَقْرَبُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ

خائسته پس هغه خرچ کوی دَهغے نه پټ اوښکاره ایا دوی برابر کیدیشی ټول صفتونه دَالوهیت دَ یواللّٰه تعالیٰ دی بلکه زیات خلق پوهه نه لری (۷۵) او بیان کړیدے اللّٰه تعالیٰ مثال دَ دوؤ سړو یو دَهغوی نه چارا دے وس نه لری په هیڅ څیز باندے اوهغه بوج وی په مالك خپل باندے کوم خواته چه توجه ورکوی نونشی راوړے هیڅ خیر ایا برابردے هغه اوهغه څوك چه حکم کوی په انصاف سره اوهغه وی په لار نیغه باندے (۷۶) اوخاص اللّٰه تعالیٰ لره دے (علم) دَ پټوڅیزونو دَ آسمانونو او دَ زمکے اونه ده معامله دَ قیامت دَ راتلو مګر په شان دَ رپ دَسترګے ده بلکه دَ دے نه هم ډیره نزدے یقیناً اللّٰه تعالیٰ په هرڅیز باندے

شان او صفتونو باندے عالم دے که دَ ځان دَپاره مثال ذکرکوی نوصحیح دے لیکن مخلوق خودَاللّٰه تعالیٰ په شان اوپه صفاتوباندے پوره علم نه لری نوهغه مثال دَ اللّٰه تعالیٰ نشی پیش کولے۔

[۷۵] په آیت کښ مثال دے دَپاره دَ ردپه هغه چاچه اللّٰه تعالیٰ دَمخلوق سره برابره وی اواشاره ده دیته چه تاسواللّٰه تعالیٰ لره دَخپل ځان نه مثالونه مه پیش کوئے بلکه دَاللّٰه تعالیٰ مثال بیانولوته غوږ کیږدئے حاصل دَ دے مثال دادے لکه چه یومرئیے وی چه په هیڅ څیزباندے وس نه لری قدرت اوتصرف ئیے نیشته بغیرداجازت دَمولیٰ خپل نه اوبل شخص اذاد وی چه هغه ته حلال اوفراخ مال ورکړے شوے وی اوهغه دَهغے نه په خپل اختیارسره خرچ کوی نودا دواړه برابرنه دی په هیڅ اعتبارسره یعنی مالك اومملوك اومرئیے اومولیٰ برابرنه دی نوڅه رنګ مشرکان برابرګنړی اللّٰه تعالیٰ لره (هغه اللّٰه چه مالك اومتصرف دے) دَ هغه سره چه مملوك دَ اللّٰه تعالیٰ دے اواختیارمستقل ورسره نیشته که ملائك دی اوکه انسانان دی اوکه پیریان دی ﴿مَمْلُوْكًا﴾ دا دَ دے وجے نه ذکرکړوچه عبدخواصل کښ هرښنده ته وئیلے شی که ازادوی اوکه مرئیے وی﴿هَلْ يَسْتَوٗنَ﴾ هرکله چه په دے صفت سره مریان اومولاګان ډیردی نوجمع ئیے ذکرکړله ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ﴾ داتفریع ده په وضاحت دَ دے مثال باندے اواشاره ده چه ټول صفتونه دَالوهیت دَیواللّٰه تعالیٰ دپاره دی نودَ هغه سره هیڅ مخلوق شریك اومشابه نشی کیدے۔

[۷۶] دا بل مثال دے دَپاره دَ ردپه مشرکینو، تفصیل دَ دے مثال دا دے لکه څنګه چه یوتن چاراوی اوخبرے نه شی کولے۔ په هیڅ څیزباندے ئیے وس نه رسیږی یعنی لاس خپے ئے کارنه کوی اودے بوج وی په خپل مالك باندے (اومالك دهٔ لره یوخوابل خوا نقل کوی) اودارنګ دَ دهٔ سنبالول دَمولیٰ په ذمه باندے وی اوهرڅه چه دَهغه نه طلب کوی نوڅه خیراوفائده نشی ورکولے ځکه چه نه پوهیږی اونه اوری۔ اوبل کس هغه دے چه امراوحکم کوی اوپه عدل اوانصاف قدرت لری اوپه لار باندے تلے شی داسے لارچه دے مقصد ته رسوی اوتمیزکولے شی دَ نیغے لارے اودَ کږے لارے، نودا دوا ډه هیڅکله برابرنهٔ شی کیدے نودا مثال دے دَ معبودِ باطل چه بت دے یا خاوند دَ قبردے هغه هم خبرے نه شی کولے اولاس اوخپے ئیے کارنه شی

قَدِيْرٌ ﴿۷۷﴾ وَاللّٰهُ اَخْرَجَكُمْ مِّنْۢ بُطُوْنِ اُمَّهٰتِكُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ شَيْـًٔا ۙ وَّجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ
وَالْاَفْـِٕدَةَ ۙ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۷۸﴾ اَلَمْ يَرَوْا اِلَى الطَّيْرِ مُسَخَّرٰتٍ فِيْ جَوِّ السَّمَآءِ ؕ مَا يُمْسِكُهُنَّ
اِلَّا اللّٰهُ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۷۹﴾ وَاللّٰهُ جَعَلَ لَكُمْ مِّنْۢ بُيُوْتِكُمْ سَكَنًا وَّجَعَلَ
لَكُمْ مِّنْ جُلُوْدِ الْاَنْعَامِ بُيُوْتًا تَسْتَخِفُّوْنَهَا يَوْمَ ظَعْنِكُمْ وَيَوْمَ اِقَامَتِكُمْ ۙ وَمِنْ اَصْوَافِهَا

قدرت لری (۷۷) او الله تعالی راویستلی ئے تاسو دَ خیټو دَ میندو ستاسو نه چه نه پوهیدلے په هیڅ څیز اوپیدا کړی دی تاسو لره غوږونه او سترګے او زړونه دَ دے دپاره چه تاسو شکر اوکړئ (۷۸) ایادوی نه ګوری مارغانو ته چه تابع کړے شوی دی په فضا دَ آسمان کښے نه دی ټینګ کړی دوئ سیوا دَ الله تعالی نه هیڅا یقیناً په دے کښے ډیر دلیلونه دی هغه قوم لره چه ایمان لری (۷۹) او الله تعالی پیدا کړیدی تاسو لره دَ کوټو ستاسو نه ځائے دَ آرام او پیدا کړیدی تاسو لره دَ څرمنودَ څارڅو نه کوټے چه سپك مومئ تاسو هغے لره په ورځ دَسفر ستاسو او په ورځ دَ دیره کیدو ستاسو او دَ ورځے دَ هغے نه

کولے اوپه تغسیل اوتکفین اونقل کولوکښ ژوندوته محتاج دے اوکه څه حاجت ترینه طلب کولے شی نوهغه پوره کولے نه شی ځکه چه نه اوری اونه پوهیږی۔ اومعبودِ حق چه الله تعالی دے امرکوونکے دے په انصاف اوقادردے په هرڅه اوپوره نظام چلوونکے دَټول عالم دے۔ فرق دَ اول مثال اودَ دویم مثال دا دے چه اول په اعتباردَنفی دَتصرف سره دے فقط اودویم په اعتباردَنفی دَ کلام اودَعلم اودَسمع دے سره دَنفی دَقدرت نه۔

فائده: هرکله چه فرق دَ دویم قسم دَجانبینوپه باره کښ ډیرواضح دے دَ دے وجے نه هل یستوی ئے په مینځ کښ ذکرکړواوپه اول قسم کښ فرق لږدے نوهلته ئے هل یستوون په آخرکښ ذکرکړیدے۔

[۷۷] په دے آیت کښ تتمه ده دَمخکښ مثال اورد دے په شرك فی العلم اوشرك فی التصرف باندے اومراد دَساعت نه هغه وخت دے چه په هغے کښ ټول خلق به فناکیږی په شپلیئے وهلوسره یا دارنګ دوباره ژوندی کیدل په یوځل سره په دویمه شپیلئ سره نودَ هغه وخت مثال ئے ذکرکړے دے دَرپ دَسترګوسره یعنی چه دغه وخت به دومره لګ وی لکه رپ دَسترګے ﴿اَوْهُوَ اَقْرَبُ﴾ هرکله چه رپ دَسترګے جزء دے دَزمانے اوزمانی دے نوترقی ئے اوکړه په مثال کښ چه هغه وخت انی دے زمانی نه دے اولمح البصرخو زمانی ده۔ اوداسے په سورة قمر(۵۰) کښ شته دے۔

[۷۸] دَ دے ایت نه پنځم باب دے تر(۸۳) پورے پدیکښ ځلورعقلی دلیلونه دی (۷۸،۷۹،۸۰،۸۱) په دے کښ تذکیر دَنعمتونودے چه هغه بدنی قوتونه دی اومارغان اوکورونه اوخیمے دی اوسوری اوغارونه دی اوقمیصونه اوزغرے دی اوبیا تسلی ده (۸۲) کښ اوزجردے په(۸۳) کښ۔ پدے ایت (۷۸) کښ دلیل عقلی دی په ذکردَانعام دَ پیدائش دَانسان اوذکردَ دریو قوتونوانسان لره اوهغه دریواړه اسباب دَعلم اودَشکردی ﴿وَجَعَلَ﴾ دائیے جدا ذکرکړواګرچه دَپیدائش سره داقوتونه موجودوی لیکن دَپیدائش نه روستوپدیکښ ترقی پیداکیږی تربلوغ اوبیا دَځلویښت کالوپورے۔

[۷۹] دا هم دلیل عقلی دی په ذکردَنعمت دَمارغانوسره اودارنګ په سورة ملك (۱۹) کښ ذکردی ﴿جَوِّ﴾ په اصل کښ جوف ته وئیلے شی مراد دَ دے نه فضاء ده په مینځ دَاسمان اودَ زمکه کښ۔

وَاَوْبَارِهَا وَاَشْعَارِهَآ اَثَاثًا وَّمَتَاعًا اِلٰى حِيْنٍ ﴿۸۰﴾ وَاللّٰهُ جَعَلَ لَكُمْ مِّمَّا خَلَقَ ظِلٰلًا وَّجَعَلَ لَكُمْ
مِّنَ الْجِبَالِ اَكْنَانًا وَّجَعَلَ لَكُمْ سَرَابِيْلَ تَقِيْكُمُ الْحَرَّ وَسَرَابِيْلَ تَقِيْكُمْ بَاْسَكُمْ ؕ كَذٰلِكَ يُتِمُّ
نِعْمَتَهٗ عَلَيْكُمْ لَعَلَّكُمْ تُسْلِمُوْنَ ﴿۸۱﴾ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنَّمَا عَلَيْكَ الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿۸۲﴾ يَعْرِفُوْنَ نِعْمَتَ
اللّٰهِ ثُمَّ يُنْكِرُوْنَهَا وَاَكْثَرُهُمُ الْكٰفِرُوْنَ ﴿۸۳﴾ ع وَيَوْمَ نَبْعَثُ مِنْ كُلِّ اُمَّةٍ شَهِيْدًا ثُمَّ لَا يُؤْذَنُ لِلَّذِيْنَ ع ۱۴

او دَپشم دَ هغے نه او دَ ویختو دَهغے نه سامان دَکور او دَفائدے څیزونه تریو وخت پورے (۸۰) او الله تعالیٰ جوړ کړیدی تاسو لره دَ هغے نه چه پیدا کړیدی سوری او جوړ کړیدی تاسو لره دَ غرونونه غارونه او پیدا کړیدی تاسو لره قمیصونه چه ساتی تاسو لره دَګرمئ نه اوقمیصونه چه ساتی تاسو په وخت دَجنګ کښی د غسے پوره کوی الله تعالیٰ نعمت خپل په تاسو باندے دے دپاره چه دَ الله تعالیٰ توحید اومنئے(۸۱) پس که دوی مخ اوګرځوو پس یقیناً ستا په ذمه باندے رَسول دی صفا (۸۲) پیژنی دوی نعمت دَ الله تعالیٰ بیا دَهغے نه انکار کوی او زیات دَ دوی نه کفر کوی (۸۳) او په کومه ورځ چه راپورته به کړو دَ هر امت نه بیان کؤونکے بیابه اجازت نشی ورکیدے

[۸۰] داهم دلیل عقلی دے په تذکیردَنعمتونودَکوټواودَخیمواو وړئے اوپشم اوویښته اودَهغے نه جامے اونورسامانونه جوړول ﴿مِنْۢ بُيُوْتِكُمْ﴾ کښی اشاره ده بنارونووالوته ﴿مِنْ جُلُوْدِ الْاَنْعَامِ بُيُوْتًا﴾ کښی اشاره ده باندواوصحراوونوته ﴿مِنْۢ بُيُوْتِكُمْ﴾ لفظ دَ مِن کښی اشاره ده چه دَکوټے په بعضِ حصه کښی اوسیدل کیدیشی ﴿تَسْتَخِفُّوْنَهَا﴾ یعنی کله چه سفرکوئے چه دا خیمے منتقل کول درته اسان وی اوکله چه اقامت کوئے نوخیمے اودَ رول درته اسان وی۔

[۸۱] دا دلیل عقلی دے اوپه دے کښی ذکردَ نعمتونو دَسورو اودَغارونو او قمیصونو او زغرو دے۔ ﴿مِمَّا خَلَقَ﴾ مراد دَ دے نه اونے دیوالونه وغیره دی ﴿نِعْمَتَهٗ﴾ مراد دے نه جنس نعمت دے اوتمام غیردے دَاختتام نه ﴿لَعَلَّكُمْ تُسْلِمُوْنَ﴾ اسلام پوره انقیاد دے ظاهری اوباطنی۔ یعنی منعَم علیه باندے عقلاً اونقلاً لازم دی چه دَمنعم انقیاد اوکړی ﴿تَقِيْكُمُ الْحَرَّ﴾ ګرمی ئے ذکرکړے ده اویخنی ئے نه ده ذکرکړے ځکه چه هغه وخت کښی مخاطب خلق مکے والاوو اوپه هغوی یخنی نه وه ﴿تَقِيْكُمْ بَاْسَكُمْ﴾ دا دلیل دے په دے باندے چه انسان دَپاره استعمال دَ داسے اسبابوچه دَ مرګ نه بچ شی جائزدی۔

[۸۲] په دے ایت کښی تسلی ده پیغمبرته او ﴿فَاِنْ تَوَلَّوْا﴾ دَ دے جزاء په اصل کښی مقدرده حاصل ئے دا دے پس که دوی مخ اړوی نودوی له به عذاب ورکړے شی په تا باندے څه وبال نیشته ماسیوا دَتبلیغ نه۔

[۸۳] په دے ایت کښی زجردے مطلب دَ دے ایت دا دے چه اقرارکوی چه دانعمتونه دَ الله تعالیٰ دی خوبیا انکارکوی اونسبت کوی شفاعت دَ الهوخپلوته۔ دویمه معنیٰ دا ده چه اقراردَنعمتونوکوی په خپلوخلوسره اوانکارئے کوی په عملونو سره۔ بله معنیٰ دا ده چه پیژنی په زړونوسره اوانکارکوی په ژبوخپلو ﴿وَاَكْثَرُهُمُ الْكٰفِرُوْنَ﴾ اکثرهم ئے ځکه اُوئیل چه دَ بعض کسانوعملی انکارکفرته رسیدونکے نه وی۔

كَفَرُوْا وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُوْنَ ﴿۸۴﴾ وَاِذَا رَاَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوا الْعَذَابَ فَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمْ وَلَا هُمْ يُنْظَرُوْنَ ﴿۸۵﴾
وَاِذَا رَاَ الَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا شُرَكَآءَهُمْ قَالُوْا رَبَّنَا هٰٓؤُلَآءِ شُرَكَآؤُنَا الَّذِيْنَ كُنَّا نَدْعُوْا مِنْ دُوْنِكَ ۚ
فَاَلْقَوْا اِلَيْهِمُ الْقَوْلَ اِنَّكُمْ لَكٰذِبُوْنَ ﴿۸۶﴾ وَاَلْقَوْا اِلَى اللّٰهِ يَوْمَئِذِ السَّلَمَ وَضَلَّ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا
يَفْتَرُوْنَ ﴿۸۷﴾ اَلَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ زِدْنٰهُمْ عَذَابًا فَوْقَ الْعَذَابِ بِمَا كَانُوْا

کافرانوته (دَعذر کولو) اونه به دَ دوی توبه قبلیدیشی (۸۴) او کوم وخت چه اُوینی ظالمان خلق عذاب لره پس نه به شی سپك کیدے دَ دوی نه اونه به دوی له مهلت ورکیدے شی (۸۵) او کوم وخت چه اُوینی مشرکان خلق خپلو معبودانو (باطلو) لره اوبه وائی اے ربه زمونږ دا هغه زمونږ معبودان دی کوم چه مونږ ترینه مدد غوختلو سیوا ستانه پس هغوی به اوغورځوی دوی ته جواب چه یقیناً تاسو دروغژن ئیے (۸۶) او پیش به کړی دوی اللّٰه تعالیٰ ته په دغه ورځ دَ روغے خبرے او روك به شی دوی نه هغه چه دوی څه دروغ جوړول(۸۷) هغه کسان چه کفرئے کړے دے اومنع کوی خلق دَ لارے دَ اللّٰه تعالیٰ نه زیاتی کړوبه دوی لره عذاب نور دپاسه دَ عذاب دَ دوی نه په دے وجه چه دوی

[۸۴] دَ دے ځائے نه شپږم باب دے تر(۱۱۳) پورے په دیکښ اول تخویف اخروی دے دَ (۸۴) نه تر (۸۹) پورے بیا ترغیب دے قرآن ته دَپاره دَ دفع دَعذاب په (۸۹)کښ بیا خلاصه دَمضامینودَ قرآن ده په (۹۰) آیت کښ بیا ترغیب دے په وفا دَ لوظ سره په (۹۱) ایت کښ بیا منع ده دَ نقض عهد نه په مختلف تعبیرونوسره په ایت (۹۱،۹۲،۹۴،۹۵،۹۶)کښ اوتخویف دے په (۹۳)کښ اوبشارت دے په (۹۷)کښ بیا ترغیب دے قرآن ته سره دَ ادب نه په (۹۸،۹۹،۱۰۰)کښ اوزجردے په انکارد نسخ سره په (۱۰۱،۱۰۲)کښ اوبیا زجردے په نسبت کولودَ قرآن سره تعلیم دَ بشرته آیت (۱۰۳)کښ بیا تخویف دے په (۱۰۴)کښ اوزجردے په (۱۰۵)کښ بیا تخویف دے په بے لوظئی سره چه هغے ته ارتداد وائې دَ (۱۰۶) نه تر(۱۰۹) پورے بیا بشارت دے په هجرت سره ایت (۱۱۰)کښ تخویف اخروی دے (۱۱۱)کښ بیا تخویف دنیوی دے په طریقه دَتمثیل سره په (۱۱۲،۱۱۳)کښ۔ پدے (۸۴) ایت کښ تخویف اخروی دے ﴿لَا يُؤْذَنُ﴾ یعنی دَعذرکولواذن به نه وی لکه په سورة مرسلات (۳۶)کښ دی۔ ﴿وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُوْنَ﴾ دا لفظ یا دَعتبا نه دے اوعتبا وئیلے کیږی رجوع کول اوتوبه کول یا دَعتاب نه دے په دے کښ معنیٰ دَ زائل کولو دَعتاب ده۔ یعنی رضا کول نومعنیٰ دا شوه چه دَ دوی نه طلب دَ توبے نه شی کیدے یا داچه دَ دوی نه طلب دَ رضا کولودَ اللّٰه تعالیٰ نشی کیدے۔

[۸۵] په دے ایت کښ هم تخویف اخروی دے اوجزاء دَپاره دَ اذا محذوف ده اوتقدیرئیے دا دے فیعذبون۔

[۸۶] پدیکښ هم تخویف اخروی دے په برائت دَالهٔوباطله سرهٔ دَعابدینونه ﴿اِنَّكُمْ لَكٰذِبُوْنَ﴾ یعنی مونږ تاسوته امرد خپلے بندگئے ندے کړے۔ دا دلیل دے پدے خبره چه دغه معبودان دَخپلوعابدانودَحال نه خبرنه دی لکه سورة یونس ایت (۲۸،۲۹) او سورة احقاف ایت (۵،۶)کښ چه ذکردی۔

[۸۷] په دے ایت کښ هم تخویف دے اودَ ﴿ضَلَّ عَنْهُمْ﴾ معنیٰ دا ده چه هیربه شی دَ دوی نه هغه

يُفْسِدُوْنَ ﴿٨٨﴾ وَيَوْمَ نَبْعَثُ فِيْ كُلِّ اُمَّةٍ شَهِيْدًا عَلَيْهِمْ مِّنْ اَنْفُسِهِمْ وَجِئْنَا بِكَ شَهِيْدًا عَلٰى
هٰٓؤُلَآءِ ؕ وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتٰبَ تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ وَّهُدًى وَّرَحْمَةً وَّبُشْرٰى لِلْمُسْلِمِيْنَ ﴿٨٩﴾
اِنَّ اللّٰهَ يَاْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْاِحْسَانِ وَاِيْتَآئِ ذِي الْقُرْبٰى وَيَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَآءِ وَالْمُنْكَرِ وَالْبَغْيِ ۚ
يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ ﴿٩٠﴾ وَاَوْفُوْا بِعَهْدِ اللّٰهِ اِذَا عٰهَدْتُّمْ وَلَا تَنْقُضُوا الْاَيْمَانَ بَعْدَ تَوْكِيْدِهَا

فساد کوی (۸۸) اوپه کومه ورځ چه را پورته کړوبه په هر امت کښے ګواهی کؤونکے په دوی باندے دَجنس دَ دوی نه او رابه ولو تالره ګواهی کؤونکے پدے (موجوده) خلقو باندے او نازل کړے مونږ په تاباندے داکتاب تشریح کؤونکے دے دَ هرے ضروری خبرے او هدایت دے او رحمت دے او زیرے دے دپاره دَ مسلمانانو (۸۹) یقیناً اللّٰه تعالیٰ حکم کوی په انصاف سره او احسان سره او حقونه ورکول خپلوانوته او منع کوی دَ بے حیایئ نه او دَبدو کارونونه او دَ ظلم کولونه وعظ درکوی تاسوته دے دپاره چه تاسو نصیحت قبول کړئ (۹۰) او پوره کوئ لوظ دَ اللّٰه تعالیٰ کله چه تاسو لوظ کړیدے اومه ماتوئ قسمونه روستو دَپوخوالی دَ هغے نه

باطل دلیلونه چه دوی دَ ځان نه جوړول اودویمه معنیٰ دا ده چه غائب به شی دَ دوی نه هغه معبودان چه دوی ورته په دروغه معبودان وئیل، دریمه معنیٰ داده چه زائل به شی دَ دوی نه دَ دروغوامیدونه چه دا الٰهه به زمونږسفارش کوی۔

[۸۸] په تیرشوؤ ایتونوکښ ذکرَ معبودینو صالحینو ووچه دَاللّٰه تعالیٰ سره شریك کړے شوی وو او تخویف ووعامو مشرکانوته، اوپه دے ایت کښ تخویف دے هغه ګمراهانوته چه نورخلق ئے ګمراه کړی وو ﴿يُفْسِدُوْنَ﴾ افساد نه مراد نورو خلقوته دَګمراهئے دعوت ورکول دی۔

[۸۹] دَ دے ایت په اوله حصه کښ تخویف اخروی دے په ذکرَشهادت دَ انبیاؤاودَ علماؤحق پرستو په امتونوباندے اودا شهادت دَدعوت اودَتبلیغ به وی اوداسے په سورة نساء (٤١) کښ دی اوپه (٨٤) کښ دَشهیدنه مراد صرف اعضاء دی یا صرف انبیاء مراد دی نوهلته ذکرَخاص دے اوپه دے ایت کښ ذکرَعام دے دَ دے ایت په دویمه حصه کښ ترغیب دے قرآن ته په ذکرَځلورو صفاتودَپاره دَبج کیدلو دَعذاب دَقیامت نه اودارنګ په دے جمله کښ اشاره ده چه دعوت کونکوته اللّٰه تعالیٰ علم دَ قرآن ورکړے دے نودَ هغے په باره کښ به دَ دوی نه تپوس کیږی ﴿تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ﴾ په دے کښ مراد هر هغه څیزونه دی چه دَ دین په باره کښ هغے ته حاجت وی یامراد کل شیء نه په دے سورة کښ ذکر دَ اصولو دَ نعمتونو دے ﴿وَبُشْرٰى لِلْمُسْلِمِيْنَ﴾ معنیٰ دا ده چه په قرآن سره زړونه دَمسلمانانوخوشحالیږی۔ اومُسلِمِینَ، هغه دی چه سرهٔ دَایمان نه اعمال ظاهریه شرعیه باندے پابندی کوی اوعمل په قرآن باندے بنکاره کوی۔

[۹۰] په دے آیت کښ خلاصه دَ ﴿لِكُلِّ شَيْءٍ﴾ ذکرده چه محکمبن ایت کښ ذکرشواودَ دے ایت په باره کښ عثمان ابن مظعونﷺ فرمائیلی دی چه اول خوما ایمان صرف دَحیاء دَ وجے نه راوړے وو اوکله چه دا ایت نازل شواوځه دَرسول اللّٰهﷺ سره ناست ووم نوایمان کلك شوزما په زړه کښ۔ مینه اومحبت مے زیات شو دَ محمدﷺ سره۔ او عبد اللّٰه بن مسعودﷺ فرمائیلی دی چه داپه قران کښ ښه جمع کوونکے

وَقَدْ جَعَلْتُمُ اللّٰهَ عَلَيْكُمْ كَفِيْلًا ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا تَفْعَلُوْنَ ﴿۹۱﴾ وَلَا تَكُوْنُوْا كَالَّتِيْ نَقَضَتْ غَزْلَهَا مِنْۢ بَعْدِ قُوَّةٍ اَنْكَاثًا ؕ تَتَّخِذُوْنَ اَيْمَانَكُمْ دَخَلًا بَيْنَكُمْ اَنْ تَكُوْنَ اُمَّةٌ هِيَ اَرْبٰى مِنْ اُمَّةٍ ؕ اِنَّمَا

او یقیناً ګرځولے دے تاسو اللّٰه تعالیٰ لره په ځان باندے ذمه وار یقیناً اللّٰه تعالیٰ عالم دے په هغه څه باندے چه کوئ تاسو (۹۱) اومه کیږئ په شان دَهغه زنانه چه سپړدلے ئے وی سپنړسئ خپله روستو دَمضبوط والی نه ټکړے ټکړے ګرځوئ تاسو قسمونه خپل بے کاره په کورنئ خپله کښے دَ دے وجے نه چه شته یوه ډله ډیرو فائِدو والا دَ بلے ډلے نه یقیناً

دَخیردے اودَ شر دے اودَ دے وجے نه عمربن عبدالعزیزامرکړے ووخطیبانوته چه دا آیت په خطبو کښ اولولئے تشریح دَ دے ایت دا ده چه احکام شرعیه دوه قسمه دی مامورات (چه په هغے سره امراوحکم کړے شوے وی) اومنهیات (چه دَهغے نه منع کړے شوے وی) بیا مامورات دوه قسمه دی حقوق دَاللّٰه تعالیٰ اوحقوق دَ بندګانواومنهیات هم دغه دوه قسمونه دی، بیا حقوق دَ اللّٰه تعالیٰ په دوه قسمه دی یوعقائد اوعبادات اودویم دَهغے اوقات اومقداراو کیفیات (طریقے) نو﴿بِالْعَدْلِ﴾ کښ حق دَاللّٰه تعالیٰ اول قسم دے یعنی عقائد اوعبادات یعنی توحید اوټول اعمال دَتوحیداوپه ﴿الْاِحْسَانِ﴾ کښ حق دَاللّٰه تعالیٰ دویم قسم دے یعنی طریقے اومقادیراواوقات اوهغے ته سنت هم وئیلے کیږی اوحق دَبندګانوپه ﴿اِيْتَآءِ ذِي الْقُرْبٰى﴾ کښ ذکردے یعنی قربت والا(که نسبی وی اوکه سببی وی) یعنی عاموڼمنانوته دَ هغوی حقوق اداکول، دینی اودنیوی حقوق دواړه۔ اومنهیات هم دوه قسمه دی حقوق اللّٰه اوحقوق العباد۔ اوحقوق اللّٰه کښ بیا دوه قسمه دی یوهغه چه دَهغے قباحت په عقل اوشرعے دواړو سره معلوم وی لفظ ﴿الْفَحْشَآءِ﴾ سره هغه مراد دے په هغے کښ ټول اقسام دَکفراودَشرك داخل دی اودروغ غلاکول، زناکول پکښ هم داخل دی۔ دویم هغه چه دَهغے قباحت صرف په شرعے سره معلومیږی لکه بدعات دَعقائدواوداعمالواوپه لفظ ﴿الْمُنْكَرِ﴾ کښ هغے ته اشاره ده اوحقوق العباد کښ ظلم کول په بندګانوباندے لوئے ګناه دے هغے ته اشاره ده په لفظ دَ ﴿الْبَغْيِ﴾ سره نومعلومه شوه چه په دے ایت کښ ټول دین اسلام داخل دے ﴿يَعِظُكُمْ﴾ معلومه شوه چه په وعظ کولوکښ ذکردَمامورانواومنهیاتوداخل دے۔

[۹۱] هرکله چه تیرشوی ایت کښ عهد دَاللّٰه تعالیٰ ذکرکړیشونوپه دے ایت کښ ترغیب دے په وفاء دَعهد سره اومنع کول دی دَ نقض عهد نه ﴿وَقَدْ جَعَلْتُمُ اللّٰهَ عَلَيْكُمْ كَفِيْلًا﴾ کښ اشاره چه دَ قسم کولو او دَعهد کولوپه وخت کښ دَ اللّٰه تعالیٰ نوم ذکرکولے شی﴿وَاَوْفُوْا﴾ قرطبی وئیلی دی چه دامعطوف دے په معنیٰ دَماقبل باندے یعنی اللّٰه تعالیٰ تاسوته اوامر اونواهی رالیګلی دی اوامرئیے کړے دے په ایفاء دَعهدونو باندے ﴿بِعَهْدِ اللّٰهِ﴾ دا لفظ عام دے هرهغه عهدته چه دَ اللّٰه تعالیٰ او رسول اللّٰهﷺ سره ترلے شویدے (چه هغه په قرآن اوحدیث کښ دی) یا په مینځ دَبندګانوکښ عهود اوعقودوی دے ټولوته شامل دے۔ لیکن اول دَعهدونونه مراد قرآن حدیث باندے عمل کول اوپه توحید اوسنت باندے وفاکول دی دَدے وجے نه دلته ئے عهد اللّٰه وئیلے دے اوپه عهد کښ لفظ دَاشهدوی اوهغه په معنیٰ دَیمین (قسم) کښ دے دَ دے وجے نه الایمان ئے اوئیلواو بیا دَدے عهدونوتاکیدپه رالیګلودَ قرآن اودَ رسول سره شویدے دَ دے وجے نه

يَبْلُوْكُمُ اللّٰهُ بِهٖ ؕ وَلَيُبَيِّنَنَّ لَكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ مَا كُنْتُمْ فِيْهِ تَخْتَلِفُوْنَ ﴿۹۲﴾ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَجَعَلَكُمْ
اُمَّةً وَّاحِدَةً وَّلٰكِنْ يُّضِلُّ مَنْ يَّشَآءُ وَيَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَلَتُسْـَٔلُنَّ عَمَّا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۹۳﴾ وَلَا
تَتَّخِذُوْۤا اَيْمَانَكُمْ دَخَلًا بَيْنَكُمْ فَتَزِلَّ قَدَمٌ بَعْدَ ثُبُوْتِهَا وَتَذُوْقُوا السُّوْٓءَ بِمَا صَدَدْتُّمْ عَنْ

ازمیښت کوی الله تعالی په تاسو باندے په دے سره او خامخا بیان به کړی تاسوته دَقیامت په ورځ هغه شے چه تاسو په هغے کښے اختلاف کوئ (۹۲) اوکه غوختلے الله تعالی خامخا ګرځولے به ئے وے تاسو یوه ډله لیکن بے لارے کوی چاله چه اوغواړی اوپه لارے روانه وی چاله چه او غواړی او خامخا ستاسونه به تپوس کیدے شی دَهغه عملونو چه تاسوئے کوئ (۹۳) اومه ګرځوئ قسمونه خپل بیکاره په کورنئ خپلے کښ نو اوبه خوئیږی خپے روستو دَ کلك والی دَ هغے نه او اوبه څکئ عذاب په وجه دَ دے چه منع کوئ خلق دَ

﴿تَوْكِيْدِهَا﴾ ئے اُوئیلواوهرکله چه هردعوی دار دَ ایمان دَ الله تعالی ذمه داری په وخت دَعهدکښ ذکرکوی دَ دے وجے نه ﴿وَقَدْ جَعَلْتُمُ اللّٰهَ﴾ ئے اوفرمائیل۔

[۹۲] په دے ایت کښ منع ده دَعهد ماتولونه په طریقه دَمثال سره ئے ذکرکړیدے اودا عطف دے ولاتنقضوا الایمان باندے دَ مثال حاصل دا دے چه یوزنانه وی اوجولاګیری (کډئے) کوونکے وی اولیونئے هم وی ځکه چه اودلے شوے تارونه دوباره سپړی اوټکړے کوی نوعهد ماتوونکے دَهغے پشان دے۔ نومعلومه شوه چه دَالله تعالی عهد ماتوونکی دَ داسے زنانه پشان بے عقله اوبے شعوره دی اوځان ته نقصان رسوؤنکے دی ﴿تَتَّخِذُوْنَ﴾ پدیکښ همزه دَاستهام دَپاره دَ زجرپټ دے﴿دَخَلاً بَيْنَكُمْ﴾ په معنیٰ دَ دهوکے سره دے یعنی سبب الدخل، یا دَ خَلَاپه معنیٰ دَ فاسد (بے کاره) دے اوسبب دَنقضِ عهد ئے ذکرکړے دے ﴿اَنْ تَكُوْنَ اُمَّةٌ هِيَ اَرْبٰى مِنْ اُمَّةٍ﴾ یعنی مشرکان اوکافرانواوبدعتیانوته نظراوکړی نوهغوی ورته مالدار ښکاره شی دَهغوی امدنی ډیره اوینی نودَ دنیا دَحرص دَوجے نه عهد دَتوحید اوطریقه دَسنت پریږدی۔ ﴿اِنَّمَا يَبْلُوْكُمُ اللّٰهُ بِهٖ﴾ په دے جملے سره جواب ورکوی چه الله تعالی مشرکانواوبے دینوخلقوته مالداری او امدنی ډیره ورکوی ځکه چه په دے سره دَمؤمنانوابتلا اوامتحان کوی﴿تَخْتَلِفُوْنَ﴾ اشاره ده چه نقضِ عهد سبب دے دپاره دَاختلاف۔

[۹۳] هرکله چه تیرشوی ایت کښ اختلاف ذکرکړے شوچه هغه دَنقض عهد په وجے سره پیداکیږی نوپه دے ایت کښ ذکرکوی چه دا اختلاف هم دَالله تعالی په اختیارکښ دے دارد دے په فرقه قدریه اومعتزله باندے یعنی اضلال اوهدایت په اختیاردَالله تعالی کښ دے اودلته اضلال اوهدایت په دے معنیٰ دے چه څوك دَعهد نه واړوی اوځوك په عهد باندے کلك پاتے شی۔ او﴿لَتُسْـَٔلُنَّ﴾کښ اشاره ده چه انسان مجبورمحض نه دے نودا رد دے په فرقه جبریه باندے۔

سَبِيْلِ اللّٰهِ ۚ وَلَكُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿۹۵﴾ وَلَا تَشْتَرُوْا بِعَهْدِ اللّٰهِ ثَمَنًا قَلِيْلًا ۭ اِنَّمَا عِنْدَ اللّٰهِ هُوَ خَيْرٌ
لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۹۶﴾ مَا عِنْدَكُمْ يَنْفَدُ ۭ وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ بَاقٍ ۭ وَلَنَجْزِيَنَّ الَّذِيْنَ صَبَرُوْٓا
اَجْرَهُمْ بِاَحْسَنِ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۹۷﴾ مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهٗ
حَيٰوةً طَيِّبَةً ۚ وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ اَجْرَهُمْ بِاَحْسَنِ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۹۸﴾ فَاِذَا قَرَاْتَ الْقُرْاٰنَ فَاسْتَعِذْ

لارے دَ اللّٰه تعالیٰ نه اوستاسو دپاره عذاب لوے دے (۹۴) اومه اخلئ په بدل دَ لوظ دَ اللّٰه تعالیٰ دنیا لره یقیناً هغه څه چه دَ اللّٰه تعالیٰ سره دی هغه غوره دی تاسو لره که تاسو پوهیږئ (۹۵) هغه څه چه تاسو سره دی فنا به شی او هغه څه چه دَ اللّٰه تعالیٰ سره دی باقی دی اوخامخا بدله ورکؤوم به هغه کسانوته چه صبرئے کړے دے ثوابونه دَ هغوی په عِوض دَ هغه ښه کارونو چه دوی کول(۹۶) چاچه عمل کړیدے برابر دَ سنت سره که نارینه وی اوکه زنانه وی اوحال داچه مؤمن وی پس خامخا ژوندبه ورکؤم دهٔ ته ژوند دَمزے او خامخا بدله ورکؤو دوی ته دَ ثوابونو دَ دوی په عوض دَ ښه کارونوچه دوی کول (۹۷) پس کله (چه غواړے) ته چه لولے قرآن پس (اول) پناهی اوغواړه

[۹۴] په دے ایت کښ منع ده دَ قسم اودَعهد ماتولونه هغه چالره چه مقتداوی لکه عالم، پیر، امام وغیره نوتکرارنیشته اودَ تخصیص وجه دا ده چه دَ دهٔ په عهدماتولوسره دَدهٔ دَتابعدارووجے هم دَحق دین نه اوخوئیږی نوهم ضال وی اوهم مضل شی ﴿قَدَمٌ﴾نه مراد قدمونه دَتقلیدکوؤنکودی یاقدمونه دَهغه مقتدامراد دی اواوله معنیٰ غوره ده په قرینه دَصددتم عن سبیل اللّٰه سره۔

[۹۵] په دے ایت کښ منع کول دی دَنقض عهدنه دَ دنیا دَمال اوجاه په حرص سره یعنی چه حق دین دَتوحید اوسنت دَ دنیا دَمال اواقتدار دَوجے نه مهٔ پریږدئ اودے ته اشتراء هم وائی اوتفصیل دَ دے اشتراء په سورة بقره (۴۱) کښ ذکرشویدے او ﴿ثَمَنًا قَلِيْلًا﴾ ټول متاع دَ دُنیا ته وئیلے شی لکه په سورة توبه (۳۸) اوسورة نساء (۷۷) کښ دی ﴿اِنَّمَا عِنْدَ اللّٰهِ﴾ دا ترغیب دے جنت اواخرت ته۔

[۹۶] په دے کښ علت دے دَ ماقبل (خیر) دَپاره۔ اوپه دیکښ تزهیدفی الدنیا دے یعنی دَاللّٰه تعالیٰ دَعهد اوپه دین باندے مضبوط کیدلوسره چه کوم اجراوثواب دَاللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه ملاویږی هغه نه ختمیږی اودَ دے دنیامال اواقتدارفنا کیږی۔او په عهد باندے مضبوطوالی ته په دے ایت کښ صبروئیلے شویدے لفظ احسَنِ ئے دَ دے وجے نه ذکرکړیدے چه حسن مباح ته وئیلے کیږی اوپه مباح کولوسره اجرنه ملاویږی۔ اواحسن کښ سنت اوواجب اوفرض داخل دی یا دَ احسن اضافت ما یعملون ته اضافت بیانیه دے۔

[۹۷] په دے ایت کښ بشارت دے هغه چاته چه په عهد باندے وفاکوی۔ اوهغے نه په ایمان اوعمل صالح سره تعبیر کړے دے﴿حَيٰوةً طَيِّبَةً﴾ غوره قول دا دے چه په دے سره هغه ټول نعمتونه مراد دی چه په هغے سره خوشحالی په دنیا اوآخرت کښ حا صلیږی اوپه دیکښ داخل دے حلال رزق اوقناعت اوتوفیق دَطاعاتوپه دنیاکښ اودویم قول دا دے چه مراد دَ دے نه جنت دے ځکه بغیردَجنت نه ژوند نه خائسته کیږی ﴿اَجْرَهُمْ بِاَحْسَنِ﴾ تیرشوی ایت کښ جزاء دنیوی مراد ده اودلته جزاء اخرویه مراد ده۔

بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ﴿۹۸﴾ اِنَّهٗ لَيْسَ لَهٗ سُلْطٰنٌ عَلَى الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَلٰى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ ﴿۹۹﴾
اِنَّمَا سُلْطٰنُهٗ عَلَى الَّذِيْنَ يَتَوَلَّوْنَهٗ وَالَّذِيْنَ هُمْ بِهٖ مُشْرِكُوْنَ ﴿۱۰۰﴾ وَاِذَا بَدَّلْنَآ اٰيَةً مَّكَانَ اٰيَةٍ ۙ
وَّاللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا يُنَزِّلُ قَالُوْٓا اِنَّمَآ اَنْتَ مُفْتَرٍ ؕ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۰۱﴾ قُلْ نَزَّلَهٗ رُوْحُ الْقُدُسِ
مِنْ رَّبِّكَ بِالْحَقِّ لِيُثَبِّتَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَهُدًى وَّ بُشْرٰى لِلْمُسْلِمِيْنَ ﴿۱۰۲﴾ وَلَقَدْ نَعْلَمُ اَنَّهُمْ

په الله تعالی سره د شیطان رټلی شوی نه(۹۸) یقیناً نیشته دهٔ لره وس د ګمراه کولو په هغه چاچه ایمان ئے راوړے دے اوپه خپل رب باندے توکل کوی (۹۹) یقیناً وس د ګمراه کولو د دهٔ په هغه کسانودے چه دهٔ سره دوستانه کوی او هغه کسان چه په سبب د وسوسو د دهٔ سره مشرکان دی(۱۰۰) او کله چه بدل راوړو مونږ یو آیت په ځائے د بل آیت باندے او الله تعالی ښه پوهه دے په هغه څه چه نازلوی ئے دوی وائی یقیناً ته خودروغ جوړؤنکے ئے بلکه زیات خلق نه پوهیږی (۱۰۱) ته اُوایه نازل کړے دے دا قرآن پاك روح د طرف د رب ستانه په حق سره د دے دپاره چه کلك کړی مؤمنانو لره (په ایمان باندے) او هدایت دے او زیرے دے دپاره د مسلمانانو (۱۰۲) او یقیناً پوهیږو مونږ چه بیشکه دوی

[۹۸] په دے ایت کښ ترغیب دے قرآن ته سره د ادب نه وجه د ربط دا ده چه قرآن کښ تذکیرد عهد د الله تعالی دے اوتعوذ بالله د دے د دپاره دے چه د شیطان د وسوسونه بچاؤ حاصل شی محکه چه شیطان د قرآن نه منع کول کوی اوانسان ته د تحریف اود غلط تاویل کولووسوسے اچوی اود الله تعالی د عهد نه ئے غافل کوی ﴿الرَّجِيْمِ﴾ چه په هغه باندے په قرآن کښ لعنتونه وئیلے شویدی اودهغه قبیح احوال ذکر دی ﴿فَاِذَا قَرَاْتَ﴾ مراد د قرائت نه اراده د قرائت ده ﴿فَاسْتَعِذْ﴾ امردے په طلب سره اواعوذ بالله وئیل امتثال د حکم دے نوغوره اعوذ بالله وئیل دی۔

[۹۹] په دے ایت کښ مراد د سُلطَان نه داسے ګناه ته لمسول مراد دی چه هغه نه بخلے کیږی یعنی شرك۔ یا ترینه توبه نه اوباسی لکه بدعات کول اودا نفی د سلطان خاص دے اوداسے په سورة حجر (۴۲) کښ هم دی او که سلطان په معنیٰ د زوریا دلیل شی نود هغے نفی عامه ده لکه په سورة ابراهیم (۲۲) کښ۔

[۱۰۰] دلته د سلطان نه مراد هغه سلطان خاص دے چه په مخکښ ایت کښ نفی شویدے ﴿بِهٖ مُشْرِكُوْنَ﴾ ضمیرد بِهِ الله تعالی ته راجع دے یعنی د الله تعالی سره شرك کوی اویا داضمیرشیطان ته راجع دے اومعنیٰ داچه (بسبب اغوائه) یعنی په سبب د وسوسے د شیطان په شرك کښ اخته شوی دی۔

[۱۰۱] په دے کښ زجردے منکرینود قرآن ته چه په قرآن باندے اعتراض کوی په باره د نسخ کښ چه دا افتراء اودروغ دی اوبحث د نسخ په تفسیرد سورة بقره کښ تیرشویدے ﴿وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا يُنَزِّلُ﴾ کښ اشاره ده چه نسخ اوتبدیل کښ د الله تعالی ډیرحکمتونه وی﴿لَا يَعْلَمُوْنَ﴾ یعنی دوی د نسخ په حکمتونوباندے علم نه لری اومعلومه شوه چه دا اعتراض کوؤنکی جاهل دی۔

[۱۰۲] په دے کښ جواب د تیرشوی اعتراض دے یعنی دا افتراء نده بلکه د جبرئیل علیه السلام په واسطه سره الله تعالی نازل کړے دے اودرے فائدے ئے ذکر کړی دی، اوله فائده تثبت اومضبوطوالے په دین باندے د قرآن کریم په سبب سره دے۔ دویم پوره هدایت د عقیدے اواحکامو اودریم خوشحالی اواطمینان۔

يَقُوْلُوْنَ اِنَّمَا يُعَلِّمُهٗ بَشَرٌ ؕ لِسَانُ الَّذِيْ يُلْحِدُوْنَ اِلَيْهِ اَعْجَمِيٌّ وَّهٰذَا لِسَانٌ عَرَبِيٌّ
مُّبِيْنٌ ﴿۱۰۳﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ۙ لَا يَهْدِيْهِمُ اللّٰهُ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۱۰۴﴾ اِنَّمَا
يَفْتَرِي الْكَذِبَ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ۚ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْكٰذِبُوْنَ ﴿۱۰۵﴾ مَنْ كَفَرَ بِاللّٰهِ مِنْۢ
بَعْدِ اِيْمَانِهٖٓ اِلَّا مَنْ اُكْرِهَ وَقَلْبُهٗ مُطْمَئِنٌّۢ بِالْاِيْمَانِ وَلٰكِنْ مَّنْ شَرَحَ بِالْكُفْرِ صَدْرًا
فَعَلَيْهِمْ غَضَبٌ مِّنَ اللّٰهِ ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿۱۰۶﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمُ اسْتَحَبُّوا الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا عَلَى الْاٰخِرَةِ ۙ

وائی یقیناً خودلے دے داقرآن (رسول ته) یو انسان ژبه دَ هغه کس چه دوی ورته غلط نسبت کوی عجمی ده او دا قرآن ژبه عربی ده واضحه (۱۰۳) یقیناً هغه کسان چه ایمان نه لری په ایاتونو دَ الله تعالی هدایت (توفیق) نه ورکوی دوی ته الله تعالی او دَ دوی دپاره عذاب درد ناك دے (۱۰٤) یقیناً جوړوی دروغ هغه کسان چه ایمان نه لری په ایاتونو دَ الله تعالی او دغه کسان دوی دروغژن دی (۱۰۵) چاچه کفر اوکړو په الله تعالی روستو دَ ایمان راوړلو نه سیوا دَ هغه چانه چه زور پرے اوکړے شو او زړه دَهغه کلك ؤو په ایمان باندے لیکن چاچه پرانستله کفر قبلولو ته سینه پس دوی باندے غضب دَ الله تعالی دے او دوی دپاره عذاب لوے دے (۱۰٦) دا دَ دے وجے نه چه دوی خوښ کړے دے ژوند دَ دُنیا په آخرت باندے

[۱۰۳] په دے ایت کښ تسلّی ده پیغمبرته اوجواب دَ دویم اعتراض دَ منکرینودے، هغه دادے چه دوی وئیل چه دے نبی ته یوبنده نصرانی تعلیم ورکوی اوهغه زمونږدَ دین یعنی دَشرك نه مخالف دے اوعجمی دے حاصل دَجواب دا دے چه هغه بنده خوعجمی دے اودا قرآن عربی فصیح بلیغ دے عجمی شخص په دے قدرت نه لری ﴿اَعْجَمِيٌّ﴾ هغه دے چه وضاحت او فصاحت سره خبره نشی کولے که عربی وی او که غیرعربی وی۔

[۱۰٤] تخویف دے منکرینودَ قرآن ته او ایت کښ اشاره ده چه عدم ایمان په قرآن باندے سبب دَمحرومیدلودے دَ هدایت نه اودَ ﴿لَا يُؤْمِنُوْنَ﴾ نه مراد دغه اعتراضات کوؤنکی دی نودوی ضدیان اوعنادیان دی۔

[۱۰۵] دا جواب دَ دوی دَ هغه قول دے چه دوی نبی ته نسبت دَ افتراء کوؤیعنی منکرین دَقرآن کریم یوخوپه الله تعالی باندے افتراء کوی شریك اودَولد نسبت ورته کوی اوبل داچه دوی همیشه دروغ وائی۔

[۱۰٦] په دے ایت کښ تخویف دے نقض کؤنکودَعهد ته په سبب دَمرتد کیدلواوپه دے کښ بیان دَحال دَهغه چادے چه افتراء کوی په الله تعالی باندے نوپه دے وجه دَمخکښ سره ربط دے ﴿اِلَّا مَنْ اُكْرِهَ﴾ دا استثناء ده دَکفرنه چه په معنیٰ دَتلفظ کولودے په کلمه دَکفرسره اواکره هم په معنیٰ دَ اکراه کولوپه تلفظ دَکفرباندے ده نواستثناء متصل صحیح شوه اوشرح بالکفرسره تکرارهم نه لازمیږی۔ مراد دَاکراه نه دا دے چه دَقتل کولودباؤپرے اوکړی یا دَبعض اندام دَپرے کولو، اوهغه دباؤ کوونکے دَ دے قدرت لری په داسے وخت کښ په عزیمت باندے عمل کول غوره دی یعنی که قتل کړیشی نودَ هغه اجرکیږی اوشهید دے اوپه رخصت باندے عمل کول جائزدی اورخصت دا دے چه په کلمه دَکفرسره په ژبه تلفظ اوکړی خوپه زړه کښ پوخ مؤمن وی ﴿شَرَحَ بِالْكُفْرِ﴾ مراد دَ شرح نه قبلول دَکفردی بغیرد شك شبهے نه۔

وَاَنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِى الْقَوْمَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿١٠٧﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ طَبَعَ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ وَسَمْعِهِمْ
وَاَبْصَارِهِمْ ۚ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْغٰفِلُوْنَ ﴿١٠٨﴾ لَا جَرَمَ اَنَّهُمْ فِى الْاٰخِرَةِ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿١٠٩﴾
ثُمَّ اِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِيْنَ هَاجَرُوْا مِنْۢ بَعْدِ مَا فُتِنُوْا ثُمَّ جٰهَدُوْا وَصَبَرُوْٓا ۙ اِنَّ رَبَّكَ مِنْۢ
بَعْدِهَا لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١١٠﴾ ع يَوْمَ تَاْتِىْ كُلُّ نَفْسٍ تُجَادِلُ عَنْ نَّفْسِهَا وَتُوَفّٰى كُلُّ نَفْسٍ مَّا عَمِلَتْ
وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿١١١﴾ وَضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا قَرْيَةً كَانَتْ اٰمِنَةً مُّطْمَئِنَّةً يَّاْتِيْهَا رِزْقُهَا رَغَدًا

اوپه دے وجه چه الله تعالی توفیق نه ورکوی قوم کفر کؤونکی ته (۱۰۷) دا هغه خلق دی چه مهر وهلے دے الله تعالی په زړونو دَهغوی او په غوږونو او په سترګو دَ هغوی باندے او دغه کسان دوی بے پرواه دی (۱۰۸) خامخا دوی به په آخرت کښے دوی تاوان والاوی (په همیشه عذاب سره) (۱۰۹) بیا یقیناً ستا رب هغه کسانو ته چه هجرت ئے کړیدے روستو دَ هغے نه چه تکلیفونه ور رسولے شویدی بیا ئے جهاد کړے دے اوصبر ئے کړے دے یقیناً ستا رب روستو (دَ دے کارونونه) بخنه کؤونکے رحم کؤونکے دے (۱۱۰) په داسے ورځ چه رابشی هر نفس کوشش به کوی دَعذاب دفع کولو دَ خان نه او پوره به ورکړے شی هر نفس ته بدله دَ عملونو دَ هغه اودوی باندے به ظلم نه شی کیدے (۱۱۱) او بیان کړے دے الله تعالی مثال دَیو کلی چه امن والا ؤو په قلاره ؤو راتله به هغوی ته خوراکونه پریوانه

[۱۰۷] په دے ایت کښ دوه سببونه دَ ماقبل ذکرکړی دی اول محبت دَ دنیا دے استحباب محبت دے سره دَغوره کولونه اوآخرت نه غافل کیدل دی اوبل سبب دا چه هدایت دَالله تعالی عنادی کافرانوته نه ملاویږی۔

[۱۰۸] دانتیجه دَماقبل قبائحوده په دنیاکښ اوطبع په ابصارو باندے زیاته ده دَغشاوة یعنی دَپردونه اوپه دے کښ دَ منکرینودوه صفتونه ئیے ذکرکړی دی۔

[۱۰۹] دا نتیجه دَما قبل ده په آخرت کښ اوپه دیکښ دَ دوی یوصفت ذکرکړے دے۔

[۱۱۰] ربط دَ دے ایت دَاکراه سره دا دے چه په دے ایت کښ دَاکراه دَکافرانونه دَبج کیدلودَپاره طریقه ذکرکړے ده چه هغه هجرت دے اوترغیب دے هجرت ته او﴿فُتِنُوْا﴾ نه مراد اکراه ده او ایت کښ اشاره ده چه پس دَهجرت کولونه بیا هم جهادکول اوصبرکول ضروری دی ﴿مِنْۢ بَعْدِهَا﴾ داضمیرپه تاویل دَ خصلت سره جهاداوصبرته راجع دے۔

[۱۱۱] په دے ایت کښ تخویف اخروی دے دپاره دَ منکرینواوتارکینودَ هجرت ﴿تُجَادِلُ عَنْ نَّفْسِهَا﴾ عذرونوپیش کولودپاره به یووخت وی اودَ لَايُؤْذَنُ لَهُمْ فَيَعْتَذِرُوْنَ سورة مرسلات (۳۶) دپاره به بل وخت وی نوتعارض نیشته دے﴿عَنْ نَّفْسِهَا﴾کښ اشاره ده چه پلارځوئ، رور، وغیره دَ ده دَ طرف نه به جدال نه کوی دَ هغوی نه به ناامیده شی نوپخپله به مجادله شروع کړی۔

مِّنْ كُلِّ مَكَانٍ فَكَفَرَتْ بِاَنْعُمِ اللّٰهِ فَاَذَاقَهَا اللّٰهُ لِبَاسَ الْجُوْعِ وَالْخَوْفِ بِمَا كَانُوْا يَصْنَعُوْنَ ﴿۱۱۲﴾
وَلَقَدْ جَآءَهُمْ رَسُوْلٌ مِّنْهُمْ فَكَذَّبُوْهُ فَاَخَذَهُمُ الْعَذَابُ وَهُمْ ظٰلِمُوْنَ ﴿۱۱۳﴾ فَكُلُوْا مِمَّا رَزَقَكُمُ
اللّٰهُ حَلٰلًا طَيِّبًا ۖ وَّاشْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ اِيَّاهُ تَعْبُدُوْنَ ﴿۱۱۴﴾ اِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ
الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ الْخِنْزِيْرِ وَمَآ اُهِلَّ لِغَيْرِ اللّٰهِ بِهٖ ۚ فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَّلَا

دَ هر ځائے نه پس ناشکری ئیے اوکړه دَ نعمتونو دَ اللّٰه تعالیٰ پس اوځکوله هغوی ته اللّٰه تعالیٰ جامه دَلوږے او دَ یرے په سبب دَهغه کارونو چه دوی همیشه کول (۱۱۲) او یقیناً راغلے دے دوی ته رسول دَ دوی دَجنس نه پس دوی هغه ته دروغژن اُوئیل پس اونیؤل دوی لره عذاب او دوی ظالمان ؤو (۱۱۳) پس خورئے دَهغے نه چه درکړی دی اللّٰه تعالیٰ تاسوته حلال پاك او شکر کوئ دَ نعمت دَ اللّٰه تعالیٰ که تاسو خاص هغه لره بندګی کوئ (۱۱٤) یقیناً حرام کړیده اللّٰه تعالیٰ په تاسو باندے مرداره او وینه او غوښه دَ خنزیر او هر هغه شے چه اواز او کړیشی په هغے باندے دَ نذر دَ غیر اللّٰه پس څوك چه نا چاره شو نه ؤو طلب ګار دَمزے اونه

[۱۱۲] په دے ایت کښ تخویف دنیوی دے مشرکینوته اودیکښ اشاره ده نزول دَ عذاب دَ قحط ته په اهل مکّه باندے او دائیے مثال ګرځولے دے دپاره دَ نوروخلقو یا قریة نه مراد بله قریه ده په طریقه دَ مثال سره لکه قریه دَسباوالو په سورة سبا (۱٦،۱۵) کښ ذکر ده اودارنګ دَ مثال دَ پاره په خارج کښ وجود شرط نه وی۔ بنا په اول قول سره مکه معظمه اګر چه په جوار دَ بیت اللّٰه کښ ده لیکن هرکله چه مکے والودَ اللّٰه تعالیٰ دَ نعمتونوناشکری اوکړه نونعمتونه ترینه بندشول اوعذاب دَ قحط پرے شروع شونونورکلی والا چه داسے ناشکره شی نوهغوی به څنګه بچ شی دَعذاب دَ اللّٰه تعالیٰ نه ﴿فَاَذَاقَهَا اللّٰهُ لِبَاسَ الْجُوْعِ﴾ قحط اولوګه مشابه کړے شوے ده لباس سره، لکه څنګه چه لباس احاطه کړے وی په بدن باندے نودارنګ قحط اوخوف په دوی باندے احاطه اوکړه یا دا مطلب دے چه اثار دَ قحط په دوی باندے داسے بنکاره شول لکه لباس چه په بدن باندے بنکاریږی اوسبب دَ دے قحط دعاءِ شردَ نبی ﷺ ده په دوی باندے چه اللهم اجعلها علیهم سنین کسِنی یوسف اودیته اشاره ده په سورة دخان (۱۱،۱۰) کښ۔ اوتعبیر ئیے په اذاقها سره ځکه اوکړو چه مراد دَ ذوق په معنیٰ مشهوره (څکل) سره دے اواشاره ده چه دَ دنیا عذاب لږوی په نسبت دَآخرت۔ ﴿فَكَفَرَتْ بِاَنْعُمِ اللّٰهِ﴾ په دے سورة کښ دِیرنعمتونه ذکرشول دَ دے وجے نه دَ دے تخصیص ئیے په دے ایت کښ اوکړواو کفرنه مراد شرك کول اودَ رسول نه انکار کول دی۔

[۱۱۳] په دے آیت کښ ذکردَ لوئے نعمت دے هغه داچه رسول ئیے دَ دوی دَجنس اودَقوم نه را اولیږلو ﴿فَكَذَّبُوْهُ﴾ تفسیر دے دَفکفرت بانعم اللّٰه او ﴿فَاَخَذَهُمُ الْعَذَابُ﴾ تفسیردے دَ فاذاقهاالجوع والخوف ﴿ظٰلِمُوْنَ﴾ نه مراد شرك کول دی۔

[۱۱٤] دَ دے ایت نه ترآخر دَ سورة پورے اُوم باب دے۔ پدیکښ رد دے په شرك فی التحلیل والتحریم باندے تر(۱۱۷) پورے اوذکردَ تحریم قهری دے زجراً په (۱۱۸)کښ، بیا بشارت دے په سبب دَ توبه کولوسره په (۱۱۹)کښ بیا دلیل عقلی دے دَ ابراهیم ﷺ نه دَ پاره دَ رد په مشرکینواودَ هغه لس اوصاف

عَادٍ فَإِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۱۵﴾ وَلَا تَقُوْلُوْا لِمَا تَصِفُ أَلْسِنَتُكُمُ الْكَذِبَ هٰذَا حَلٰلٌ وَّهٰذَا
حَرَامٌ لِّتَفْتَرُوْا عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ ط إِنَّ الَّذِيْنَ يَفْتَرُوْنَ عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ لَا يُفْلِحُوْنَ ﴿۱۱۶﴾
مَتَاعٌ قَلِيْلٌ ص وَّلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيْمٌ ﴿۱۱۷﴾ وَعَلَى الَّذِيْنَ هَادُوْا حَرَّمْنَا مَا قَصَصْنَا عَلَيْكَ
مِنْ قَبْلُ ج وَمَا ظَلَمْنٰهُمْ وَلٰكِنْ كَانُوْا أَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿۱۱۸﴾ ثُمَّ إِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِيْنَ عَمِلُوا

دَحد نه تیریدونکے ژو پس یقیناً اللّٰه تعالیٰ بخنه کژونکے رحم کژونکے دے(۱۱۵) او مه وائے هغه څیز ته چه بیانوی ئے ژبے ستاسو دروغ چه داشے حلال دے او داشے حرام دے دَ دے دپاره چه جوړوئ په اللّٰه تعالیٰ باندے دروغ یقیناً هغه کسان چه جوړوی په اللّٰه تعالیٰ باندے دروغ نشی بچ کیدلے (دَ عذاب نه)(۱۱۶) (دوی لره) مزه لره ده او دوی لره عذاب درد ناك دے (۱۱۷) او په هغه کسانو باندے چه یهودیان دی حرام کړیدی مونږ هغه څه چه بیان کړیدی مونږ په تاباندے پخوا دَ دے نه او ظلم نه دے کړے مونږ په دوی باندے لیکن دوی پخپلو ځانونو باندے ظلم کوی (۱۱۸) بیا یقیناً ستا رب هغه کسانو لره چه

او احوال ئے ذکر کړی دی دَ (۱۲۰) نه تر(۱۲۳) پورے، او جواب دَ سوال دے په (۱۲٤) کښ بیا ترغیب دے دعوت اوتبلیغ ته په ذکر کولودَپښځه اوابوسره ترآخردَسورة پورے په دے (۱۱٤) کښ رد دے په تحریم لِغیر اللّٰه باندے اودَ دے تشریح په سورة بقره اوسورة مائده کښ تیره شویده اوپدیکښ تفسیردے دَکفران کولودَمشرکینو چه مخکښ ایت کښ ذکرشو لکه نعمتونه دَ اللّٰه تعالیٰ چه په ځان باندے ئے حرام کړی ووپس امراو کړے شوچه داحلال اوګنړئے۔ اوپه دے ایت کښ دلیل دے چه دَاللّٰه تعالیٰ حلال منل اوشکرکول داهم عبادت دے ﴿وَاشْكُرُوْا﴾ هرکله چه دا سورة دَ نعمتونو سورة دے دَ دے وجے نه په دے سورة کښ دَ واشکروا نعمت اللّٰه ذکر ئے اوکړو۔

[۱۱۵] په دے ایت کښ رد دے په تحلیل دَ غیراللّٰه اونذردَ غیر اللّٰه باندے یعنی مشرکینودا مذکورځیزونه حلال ګنړل او حال دا دے چه دا حرام په ټولودیننو کښ دی ۔ تفسیر دَ ایت په سورة بقره کښ تیرشوے دے۔

[۱۱٦] په دے ایت کښ رد دے دَمشرکانوپه تحلیل اوتحریم باندے پس دَ بیان دَ حکم دَ هغے نه په تیرشوو دوو ایتونو کښ یعنی تحلیل او تحریم بندګانو په اختیار کښ نه دے ۔ او په دے ایت کښ تصریح ده چه څوك دَ ځان نه تحلیل او تحریم کوی نودے په اللّٰه تعالیٰ باندے افتراء کوی اوداسے کس دَاللّٰه تعالیٰ دَعذاب نه نشی بچ کیدے ﴿لِمَا تَصِفُ﴾ لام اجلیه دے او ﴿هٰذَا حَلٰلٌ﴾ مقوله ده دَ قول یا لام شانیه دے یعنی په باره دَ هغے کښ چه ستاسو ژبے بیانوی ﴿الْكَذِبَ﴾ مفعول دَ لاتقولوا دے او هذا حلال تفسیردے دَ الکذب۔

[۱۱۷] داجواب دَسوال دے چه دے مشرکانولره ډیرنعمتونه ورکړے شوی دی نومعلومه شوه چه دوی په حقه دی جواب اوشوچه دا دَ دُنیا لږه مزه ده زربه ختم شی ﴿مَتَاعٌ قَلِيْلٌ﴾ خبرئے حذف دے لهم۔ یا مبتدا محذوف ده یعنی متاعهم متاع قلیل۔

[۱۱۸] په دے ایت کښ بیان دَ خاص تحریم دے په یهودیانوباندے اومقصود پدیکښ تخویف دے یعنی لکه چه دَ هغوی بغی سبب دَ تحریم دَ نعمتونوشوه نوکه تاسو بغی اوکړئے نواللّٰه تعالیٰ به په تاسوباندے هم نعمتونه حرام اومنع کړی اودَ دے ایت تشریح په سورة انعام (۱٤٦) اوسورة نساء (۱٦۰) کښ تیره شوے ده۔

السُّوْٓءَ بِجَهَالَةٍ ثُمَّ تَابُوْا مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ وَاَصْلَحُوْٓا ۙ اِنَّ رَبَّكَ مِنْۢ بَعْدِهَا لَغَفُوْرٌ
رَّحِيْمٌ ﴿۱۱۹﴾ اِنَّ اِبْرٰهِيْمَ كَانَ اُمَّةً قَانِتًا لِّلّٰهِ حَنِيْفًا ؕ وَلَمْ يَكُ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿۱۲۰﴾ شَاكِرًا
لِّاَنْعُمِهٖ ؕ اِجْتَبٰىهُ وَهَدٰىهُ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۱۲۱﴾ وَاٰتَيْنٰهُ فِى الدُّنْيَا حَسَنَةً ؕ وَاِنَّهٗ فِى الْاٰخِرَةِ
لَمِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۱۲۲﴾ ثُمَّ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ اَنِ اتَّبِعْ مِلَّةَ اِبْرٰهِيْمَ حَنِيْفًا ؕ وَمَا كَانَ مِنَ
الْمُشْرِكِيْنَ ﴿۱۲۳﴾ اِنَّمَا جُعِلَ السَّبْتُ عَلَى الَّذِيْنَ اخْتَلَفُوْا فِيْهِ ؕ وَاِنَّ رَبَّكَ لَيَحْكُمُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ

بدکارونه کوی په ناپوهئ سره بیائے توبه اوکړه روستو دَ دے نه او عمل ئے کؤو برابر دَ سنت سره یقیناً ستا رب روستو دَ دے نه بخنه کؤونکے رحم کؤونکے دے (۱۱۹) یقیناً ابراهیم(علیه السلام) ؤو پیشوا (دین بیانؤونکے) تابعدار دَ الله تعالیٰ پوخ مؤحد اونه ؤو دے دَ مشرکانو دَ ډلے نه (۱۲۰) شکر کؤونکے ؤو په نعمتونه دَ الله تعالیٰ غوره کړے ؤو دهٗ لره او هدایت ئے کړے ؤو دَ دهٗ لارے نیغے ته (۱۲۱) او ورکړے ؤو مونږ دهٗ ته په دنیا کښے خائسته ژوند او یقیناً دے به په آخرت کښے دَ کامیابونه وی (۱۲۲) بیا وحی اوکړه مونږ تاته چه تابعداری کوه دَ ملت دَ ابراهیم(علیه السلام) چه پوخ مؤحد ؤو اونه ؤو دَ مشرکانو دَ ډلے نه (۱۲۳) یقیناً مقرر کړے شوے دے تعظیم دَورځ دَ ځالی په هغه خلقو باندے چه اختلاف ئے کړیؤو (په ورځ دَ تعظیم کښے) او یقیناً ستا رب خامخا به فیصله اوکړی په مینځ دَ دوی کښے په ورځ

[۱۱۹] په دے ایت کښ ترغیب دے توبه کولوته ﴿عَمِلُوا السُّوْٓءَ﴾ هرګناه ته شامل دے او ﴿بِجَهَالَةٍ﴾ اشاره ده چه هرګناه کوؤنکے په وخت دَګناه کولوکښ جاهل وی یعنی په دغه وخت کښ دَګناه دَعاقبت نه ناخبروی ﴿مِنْۢ بَعْدِهَا﴾ ضمیرپه تاویل دَ خصلت سره توبے او اصلاح ته راجع دے۔ په دے کښ اشاره ده چه دَ توبے سره عمل صالح یوځائے وی نو مغفرت او رحمت دواړه حاصلیږی۔

[۱۲۰،۱۲۱،۱۲۲] پدیکښ دلیل نقلی د ابراهیم(علیه السلام) نه ذکرکوی دَپاره دَرد په ټولومشرکانو، اوتخصیص دَ ابراهیم(علیه السلام) ئے پدے وجه سره اوکړو چه نیکه وودَمشرکان مکه اودَ یهودو نصاریٰ، او دارنګ مشرکانوبه دعویٰ کوله چه مونږپه ملت ابراهیم(علیه السلام) باندے یونوپه ذکردَ ابراهیم(علیه السلام) سره ئے په هغوی باندے رد اوکړوچه هغه خومشرك نه ووبیا په دے ایتونو کښ دَ ابراهیم(علیه السلام) پنځه اوصاف ذکرکړے شوی دی (۱) امة (۲) قانت (۳) حنیف (٤) لم یك من المشرکین (٥) شاکراً لانعمه دَ امت نه مراد دا دے چه یوائے دَ امت پشان مضبوط وو۔ یا دا چه خودنه کوونکے دَخیروویا داچه امام وو۔ اوبیا پنځه احوال دَ ابراهیم(علیه السلام) دی (۱) اجتباه (۲) هداه مراد دا دے چه صراط المستقیم ته دَ دعوت کولوطریقه یا دلیلونه مونږه دهٗ ته خودلی وؤ (۳) اتیناه فی الدنیا حسنة مراد دَ دے دا دے چه انبیاء دَ دے نه روستوټول دَ دهٗ په اولادکښ را اولیګلے شول، یا داچه دَ دهٗ نیك ذکر اوستائینه په روستو خلقوکښ پاتے شوه۔ او (٤) انّه فی الاخرة لَمِنَ الصالحین اوپنځم حال په روستو ایت کښ دے۔

[۱۲۳] تابعداری دَملّت ابراهیمیه په اعلان دَبرائت کښ دَمعبودانوباطِلؤنه اودَتمام مشرکانونه اوپه اکثراحکاموفروعیه کښ هم ده۔

الْقِيٰمَةِ فِيْمَا كَانُوْا فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ﴿۱۲۴﴾ اُدْعُ اِلٰى سَبِيْلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ
وَجَادِلْهُمْ بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ ؕ اِنَّ رَبَّكَ هُوَ اَعْلَمُ بِمَنْ ضَلَّ عَنْ سَبِيْلِهٖ وَهُوَ اَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِيْنَ ﴿۱۲۵﴾
وَاِنْ عَاقَبْتُمْ فَعَاقِبُوْا بِمِثْلِ مَا عُوْقِبْتُمْ بِهٖ ؕ وَلَئِنْ صَبَرْتُمْ لَهُوَ خَيْرٌ لِّلصّٰبِرِيْنَ ﴿۱۲۶﴾ وَاصْبِرْ

دَ قیامت په هغه څه کښې چه دوی په هغې کښ اختلاف کوی (۱۲٤) بلنه کوه دَرب لارے ته په کلکے طریقے سره او په خائسته وعظ سره او جواب کوه دَ دوی دَخبرو په ښه طریقے سره یقیناً ستا رب هغه ښه پوهه دے په هغه چاچه واوړی دَ لارے دَ هغه نه اوهغه ښه پوهه دے په هدایت والو (۱۲۵) او که تاسو بدله اخلئ نو بدله اخلئ په مقدار دَ تکلیف در کړے شوی ستاسو او که تاسو صبر اوکړو نو دا ډیر ښه دے دپاره دَ صبر ناکو خلقو (۱۲٦) او صبر کوه

[۱۲٤] په دے ایت کښ جواب دَیوشبهے دے هغه دا ده چه دَابراهیم علیه السلام په دین کښ دَ ځالی دَورځے تعظیم لازم وو، اوتهٔ اے نبی دَ هغے نه مخالفت کوئے حاصل دَ جواب دا دے چه تعظیم دَ ځالی دَ ورځے فرض کړے شوے وو په ﴿الَّذِيْنَ اخْتَلَفُوْا فِيْهِ﴾ باندے اوهغه یهودیانو وو، دا تعظیم په دین ابراهیم علیه السلام کښ نه وؤ او دَ الّذین اختَلَفُوا فیه، مطلب دا دے چه اللّٰه تعالیٰ دوی له اختیار ورکړوچه په هفته کښ یوه ورځ دَ تعظیم دَپاره مقررکړئ او ورسره ئے اوفرمائیل چه جمعه ځما په نیزغوره ده نولازم داوه چه دوی خپله رضا دَ اللّٰه تعالیٰ دَ رضا تابع کړے وے لیکن دوی دَ سبت (ځالی) ورځ غوره کړه۔ اودوی او نصاریٰ پکښ مختلف شول ۔ او نصاریٰ په زمانه دَ قسطنطین کښ دَ دوی په خلاف کښ دَ اتوار روځ غوره کړله۔

[۱۲۵] په دے ایت کښ تیزی ورکوی په دعوت کولوباندے اوترآخرد سورة پورے دَ هغے پنځه اداب ئے ذکرکړی دی پدے ایت او دَ دے نه بعد کښ امردَ دعوت دے په ﴿اُدْعُ﴾ سره او طریقه دَ دعوت اوحکم دَ مصائبودَ دعوت ذکرکړے شوے دے۔ اومقصد دَ دعوت ﴿اِلٰى سَبِيْلِ رَبِّكَ﴾ دے مراد دَ دینه توحید اونورعقائِد دی چه په دے سورة کښ ذکرشول، اوطریقه دَ دعوت دا ده، اول اثبات دَ موسیٰ (دَ مسئلے) په پابنه اویقینی دلیلونوسره اودیته الحِکمَةِ وائي ځکه چه حکمت په معنیٰ دَ اتقان دَ علم اودَ عمل دے اودَ دے حکمت تفصیل په سورة اسراء (۳۹)کښ ذکرشویدے نومراد دَ دینه قرآن اوحدیث صحیح دے۔ دویم ترغیب مدعیٰ ته په ذکردَ بشارتونواوانعاماتو اوتخویفاتواوزجرونوسره دے اودیته ﴿الْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ﴾ وائي۔ اودریم جواب دَ شبهاتودے په نرمه طریقه او لهجه سره اوپه دے جوابونو کښ دَ مخاطب چپ کول دی ځکه ئے هغه ذکرکړه په ﴿جَادِلْهُمْ بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ﴾ سره او ﴿اِنَّ رَبَّكَ هُوَ اَعْلَمُ﴾ سره اشاره ده چه ستاسوپه ذمه دعوت کول دی اوهدایت دَ اللّٰه تعالیٰ په اختیارکښ دے اودا اشاره ده نتیجے دَ دعوت ته۔

[۱۲٦] پدیکښ اشاره ده مصائبودَ دعوت ته او دَ هغے علاج په دوه طریقوسره دے اول معاقبه (یعنی بدل اخستل) په مثل سره، اودویم صبرکول او دویمه طریقه غوره ده۔

وَمَا صَبْرُكَ إِلَّا بِاللّٰهِ وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَلَا تَكُ فِيْ ضَيْقٍ مِّمَّا يَمْكُرُوْنَ ﴿۱۲۷﴾ إِنَّ اللّٰهَ مَعَ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا وَّالَّذِيْنَ هُمْ مُّحْسِنُوْنَ ﴿۱۲۸﴾ ع ۱۶

اونه دے ستا صبر مگر په مدد دَ اللّٰه تعالیٰ سره دے اومه غمژن کیږه په دوی باندے اومه کیږه په تنګسیا کښے دَهغے نه چه دوی چلونه جوړه وی (۱۲۷) یقیناً اللّٰه تعالیٰ خاص ملګرے دے (په امداد کولو) دَهغه چاچه تقویٰ لری او دهغه کسانو چه خائسته کارونه کوی(۱۲۸)

[۱۲۷] پدیکښ بیان دَ درے ادابودے دَ دعوت کوونکی دَپاره۔ اول ادب ﴿وَاصْبِرْ﴾ تیرشوی آیت کښ اختیارووَ معاقبے اودَصبر کولواوپه دے ایت کښ تعین دَ صبردے۔ وجه دَ دے دا ده چه هغے ایت کښ خطاب وو عام دا عیانوته اودے ایت کښ مخاطب دے امیردَ داعیانو او دَ دواړو په حال کښ فرق پکار دے اودویم ﴿لَا تَحْزَنْ﴾ مراد دَ دینه اظهاردَ غم اوافسوس دے په داسے طریقے سره چه دَ نورکارنه غافل شی اودریم ﴿وَلَا تَكُ فِيْ ضَيْقٍ﴾ مراد دَ دینه غم او بے صبری کول دی۔

[۱۲۸] په دے ایت کښ بشارت دے داعی ته په معیت خاصه دَ اللّٰه تعالیٰ سره چه هغه نصرت کول دی لیکن په دوؤ شرطونوسره دَ پاره دَ داعی، یوتقویٰ اودویم احسان۔ اواحسان په معنیٰ دَاخلاص دے۔ تقویٰ نه مراد عقیده دَ توحید ده اودَ شرك نه بچ کیدل اودَ محسنون نه مراد عمل دَ طاعاتودے ۔

فائده: هرم بن حبان رضی اللّٰه عنه ته په وخت دَ زنکدن کښ اُوئیلے شول چه مونږ ته وصیت اوکړه نو هغه اُوئیل څه تاسوته وصیت کوم په آخری ایتونودَ سورة نحل سره۔

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سُوْرَةُ بَنِیْٓ اِسْرَآءِیْل (۱۷) مَكِّيَّةٌ (۵۰) | اٰيَاتُهَا ۱۱۱ رُكُوْعَاتُهَا ۱۲

سورة بنی اسرائیل

اوبل نوم ئیے سورة اسراء اوبل سورة سبحان دے۔

ربط: دَ دے سورة دَ سورة نحل سره دا دے چه سورة نحل کښ رد وؤ په استدلال دَ مشرکانوسرهٔ دَ تخویف دَ عذاب نه نو په دے سورة کښ ذکر کوی اسباب دَ عذاب دارنګ دَ سورة نحل په آخرکښ په طریقه دَ دعوت کښ حکمت ذکرکړلے نوپه دے سورة کښ دَ حکمت تفسیردے۔

دعویٰ دَ دے سورة دا ده: ذکردَ څلورواسبابودَ عذاب دَپاره دَ تحذیر، سرهٔ دَ طریقے دَ دفع کولودَ عذاب نه۔ سبب اول انکاردے دَ توحید نه او دَ اثبات دَ توحید دَ پاره څلور طریقے دی۔ اوله طریقه رد په اقسامودَ شرك اوپه مشرکینودیارلس کرته، دویمه طریقه ذکرکول دَدیارلس اسماؤ حسنیٰ دَ اللّٰه تعالیٰ۔ دریمه طریقه، عقلی دلائل او ایت وحییه یعنی معجزات۔ څلورمه طریقه ذکردَ دعوے دَتوحید شپږکرته اودَ دے سبب اول نمونه ئیے بنی اسرائیل ذکرکړی دی۔ سبب دویم انکار دَمعجزاتواو ایات الٰهیونه اودَ هغے مثال په ثمود اوپه واقعه ادمﷺ اوابلیس سره۔ سبب دریم ویستل دَ رسولانودَ وطن نه اودَ هغے مثال په هجرت دَ محمدﷺ سره۔ سبب څلورم، استهزاء کول په رسولانوپورے اودَ دے مثال په واقعه دَ موسیٰﷺ اودَ فرعون سره۔

خلاصه دَ دے سورة: دا سورة تقسیم دے څلوروحصوته۔ اوپه هرحصه کښ ئیے یو یوسبب ذکرکړے دے۔ اوله حصه تر (۵۸) پورے ده اوپه دے کښ اول ذکردے دَ دعوے دَتوحید اواثبات دَ هغے په معجزه دَاسراء سره اوپه دلیل عقلی سره په(۱) کښ بیا دلیل نقلی دَکتاب دَموسیٰﷺ نه په(۲)کښ بیا ترغیب توحید ته په (۳)کښ بیا ذکردَ نمونے دَ عذاب په حال دَ بنی اسرائیلوسره دَ(٤)نه تر(۸) پورے، بیا معجزه دَ قرآن دَپاره دَ اثبات دَتوحید اوتخویف اوبشارت (۹،۱۰)کښ، بیا زجراول په طلب کولودَ شر سره (۱۱)کښ، بیا دلیل عقلی (۱۲)کښ، بیا تخویف اخروی (۱۳،۱٤)کښ، بیا ذکردَحکمت دَ ارسال رُسل (۱۵)کښ، بیا تخویف دنیوی (۱٦)کښ، اودَهغے نمونه ایت(۱۷)کښ، اوتخویف اخروی (۱۸)کښ، بشارت (۱۹،۲۰،۲۱) ایتونوکښ، بیا دَعذاب دَدفع کولودَپاره دریے امورئیے ذکرکړی دی۔ اول دَشرك نه بچ کیدل (۲۲،۲۳)کښ دویم احسان دَمخلوق سره دَ (۲۳) نه (۳۰) ایت پورے۔ دریم عدل کول اودَ ظلمونونه بچ کیدل، اوهغه لس امورئیے ذکر کړی دی، بیا دویم زجرپه شرك بالملائکة سره (٤۰) ایت کښ اودریم زجر په نفرت کولوسره دَ قرآن نه، بیا مسئله دَتوحید او رد دَشرك (٤۳،٤٤)کښ بیا څلور زجرونه یوپه انکاردَ قرآن سره (٤۵)کښ، اودویم په انکاردَ توحید نه (٤٦)کښ اودریم په انکاردَ رسول نه (٤۷)کښ اوڅلورم په انکاردَبعث نه دَ(٤۹) ایت نه تر(۵۲) پورے۔ بیا ترغیب توحید ته (۵۳،۵٤)کښ، بیا دلیل عقلی (۵۵) کښ بیا رد په مشرکین بالجن باندے سرهٔ دَ رد دَشرك فی التصرف اوشرك فی الدعاء نه(۵٦،۵۷،۵۸)کښ۔

سُبْحٰنَ الَّذِیْٓ اَسْرٰی بِعَبْدِهٖ لَیْلًا مِّنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ اِلَی الْمَسْجِدِ الْاَقْصَا الَّذِیْ بٰرَكْنَا حَوْلَهٗ لِنُرِیَهٗ مِنْ اٰیٰتِنَا ؕ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِیْعُ الْبَصِیْرُ ① وَاٰتَیْنَا مُوْسَی الْكِتٰبَ وَجَعَلْنٰهُ هُدًی لِّبَنِیْٓ اِسْرَآءِیْلَ اَلَّا تَتَّخِذُوْا

پاکی ده الله تعالی لره (دَهر قسم شرك اودَ عیبونونه) داسے ذات دے چه بوئے تلوبنده خپل په ټکړه دَشپے کښے دَ مسجدِ حرام نه تر مسجد اقصیٰ پورے هغه چه برکات اچولی دی مونږ چاپیره دَهغے نه دپاره دَ دے چه اوښایو مونږ دهٔ ته دَنبنو دَ قدرت اودَ توحید زمونږ نه یقیناً الله تعالی هرڅه اوری اوهرڅه وینی (۱) او ورکړے ژو مونږ موسیٰ(علیه السلام) ته کتاب اوګر ځولے ژو مونږ هغه هدایت دپاره دَبنی اسرائیلو چه مه نیسئ

تفسیر

[۱] په دے ایت کښ دعویٰ دَ توحید ذکرشوے ده په سبحان سره اودَ هغے دَاثبات دپاره معجزه دَ اسراء ذکرشویده اودے ته دلیل وحی هم وئیلے کیږی اودلیل عقلی په ﴿اِنَّهٗ هُوَ السَّمِیْعُ الْبَصِیْرُ﴾ سره دے۔

تحقیق دَاسراء اودَمعراج: اسراء په اصل لغت کښ دَ شپے بوتللوته وئیلے کیږی اومعراج بره خیژولوته وائي۔ بیا دَ مسجد حرام نه مسجد اقصیٰ پورے دَ شپے بوتلل دَ رسول الله ﷺ په طریقه دَ معجزے سره دے ته اسراء وئیلے کیږی لکه په دے ایت کښ چه ذکرشویدے اوآسمانونوته خیژول دَرسول الله ﷺ په دغه شپه کښ، دے ته معراج وئیلے کیږی اومحدثین کرام دا دواړه لفظونه دَیوبل په ځائے استعمالوی یعنی ټولے واقعے ته اسراء هم وائي اومعراج هم وائي۔ اوقرآن کښ په دے ایت کښ ترمسجد اقصیٰ پورے دَاسراء واقعه ده اوپه سورة نجم کښ دَآسمانونومعراج ذکرکړے شوے دے۔ اودارنګ روایت کوونکی دَحدیث دَمعراج ځلورځلویښت صحابه کرام دی نوداحدیث متواترشو۔ نومعلومه شوه چه واقعه دَمعراج په دلیل قطعی سره ثابت ده اودارنګ دَمسلمانانوپه دے باندے اجماع ده نومعلومه شوه چه انکارکوونکے دَ دے نه زندیق اوملحد دے دارنګ ابن کثیرهم داحکم ذکرکړیدے۔ اودا معراج دَبیداریٔ په حال کښ په بدن اوپه روح دواړو سره شوے دے اوپه دے باندے اجماع دَ امت ده۔ اوامام بیهقی ثابت کړیده چه اسراء اومعراج دواړه په یوشپه کښ شویدی۔

دَیوځوشبهاتوجوابات: اوله شبه دا ده چه دَ حدیث دَبخاری (ج ۲ ص۱۱۲۱) په روایت دَانس بن مالك رضی الله عنه سره دا الفاظ راغلی دی چه (فَاستَیقَظَ وَهُوَ فِیْ المَسجِدِ الحَرامِ) دَ دے نه معلومیږی چه دا معراج په خوب کښ وو؟۔جواب دا دے چه دا حدیث په روایت دَشریك بن عبد الله سره دے اوپه شریك باندے تهذیب التهذیب (ج٤ ص ۳۳۸)کښ کلام دے چه دے قوی نه دے۔ دے به دِیرخطاکیدلواودے دَتقدیرنه منکر وو۔ اوامام نووی په شرح دَمسلم کښ دَقاضی عیاض په حواله سره وئیلی دی چه دَشریك په روایت کښ اوهام دی۔ دویمه شبه دا ده، امام بیهقی په دلائل النبوة کښ حدیث دَ ابن مسعود رضی الله عنه روایت کړے دے اودَهغے نه معلومیږی چه دا دَخوب واقعه ده؟ جواب دا دے چه په دے سندکښ ابوهارون عبدی راوی دے او ابن کثیر وئیلی دی چه دا راوی بے اعتباره وواوآ کذَب مِن فِرعَون ئے ورته وئیلے دے۔ دریمه شبه داده، حدیث دَعائشة رضی الله عنها چه ابن جریر رواړے دے په هغے کښ تصریح ده چه دا واقعه روحانی

مِنْ دُوْنِیْ وَكِیْلًا ۝۲ ذُرِّیَّةَ مَنْ حَمَلْنَا مَعَ نُوْحٍ ؕ اِنَّهٗ كَانَ عَبْدًا شَكُوْرًا ۝۳ وَقَضَیْنَآ اِلٰی بَنِیْٓ اِسْرَآءِیْلَ فِیْ

سیوا زمانه کارساز (۲) اے اولاد د هغه چاچه مونږ سواره کړی ؤو د نوح(علیه السلام) سره یقیناً هغه بنده شکر ګذار ؤو (۳) او فیصله اَورَولے وه مونږ بنی اسرائیلوته په

ده؟ جواب، دا دے چه د دے روایت په سند کښ یوراوی محمد بن حمید دے اومیزان الاعتدال(ج:۳ ص:۵۳۰) کښ په هغه باندے جرح کړے شوے ده ردی المذهب اوکذاب ورته وئیلے شوی دی۔ اوبل راوی محمد بن اسحاق دے اوپه هغه باندے ډیرو اصحاب الجرح والتعدیل کلام کړے دے چه هغه کذّاب اودَجّال وو۔ اودَ دے حدیث ښکاره دلیل دَضعف بلکه دَ وضع دا دے چه عائشة رضی اللّٰه عنها هغه وخت ډیره وړه وه دَرسول اللّٰه ﷺ سره ئے نکاح شوے نه وو۔ خَلورمه شبه، په دغه شپه کښ دَانبیاؤ علیهم السلام سره ملاقات شوے دے اوهغوی سره خبرے کړے شوی دی اومونځ ئے هم کړے دے اوموسیٰ(علیه السلام) دَتخفیف دَمونځونودَپاره رسول اللّٰه ﷺ باربارواپس اللّٰه تعالیٰ ته لیګلے وودا ټول دلالت کوی چه پیغمبران پس دَوفات نه هم ژوند دنیوی لری اوخبرے اوعبادات وغیره کولے شی؟ جواب دا دے چه واقعه دَمعراج معجزه ده اوعالم مثال دے په هغے کښ ټول ارواح دَ انبیاء علیهم السلام رسول اللّٰه ﷺ ته ممثل کړے شوی وو، سیوا دَعیسیٰ(علیه السلام) نه چه دَ هغه ژوند حقیقی وو۔ اودَ دے دلیل هغه حدیث دے چه (مثّلت لی الانبیاء) اودارنګ ملاعلی قاری په مرقات شرح مشکوٰة کښ ډیرکرته تصریح کړیده چه ارواح ممثل کړے شوی وواوهغه په (ج:۱۱، ص:۲۲، ج:۱۱، ص:۱۴۱،ج:۱۱، ص:۱۴۳، ج:۱۱،ص:۱۴۵) کښ ذکرکړی دی۔ اوفتح الملهم شرح مسلم (ج:۱،ص:۳۱۵) کښ وئیلی دی چه دَ هیڅانه نقل نیشته چه انبیاء علیهم السلام په دغه شپه دَ قبرونونه اسمانونوته نقل شوی وو۔ اوپه دغه شپه اولاد دَآدم(علیه السلام) هغه خپل ښی طرف اوکینې طرف ته لیدلی وو اودارنګ هغه واعظان دَ دے امت چه بے عمله دی هغه ئے جهنم کښ لیدلی وو اوحال دا چه هغوی تردغه وخت پورے پیدا شوی هم نه وونودا ټول ممثلات ووپه دے ایت کښ لفظ دَ ﴿بِعَبْدِهٖ﴾ دلیل دے چه دَرسول اللّٰه ﷺ بدن او روح په دواړو سره معراج کړے شوے دے اوبله اشاره ده چه دَهغه لوے مقام دَعبدیت وواولفظ دَ لَیلاً نکره ده دلالت کوی چه دَ شپے په لږه حصه کښ ئے بوتلے وؤ۔

[۲] په دے ایت کښ دلیل نقلی دے دَکتاب دَموسیٰ(علیه السلام)، چه هغه کتاب هم دَتوحید دپاره نازل کړے شوے وو۔ اودَتورات خلاصه پدے ایت کښ ذکرکړے شوے ده هغه دا ده چه دَ اللّٰه تعالیٰ نه سیوا بل څوك ذمه وار اوکارسازمه جوړوئے اودا سے په سورة مزمل ایت (۹) کښ هم ذکردی۔

[۳] په دے ایت کښ ترغیب دے دَتوحید منلوته په دووطریقوسره اول دا چه ماپه تاسوانعام کړے دے چه ستاسونیکونه مے دَ نوح(علیه السلام) سره په کشتئ کښ بچ کړی وواودویم دا چه ستاسو پلار(نوح(علیه السلام)) توحید والاوواوتوحید بیانونکے وو۔ اودا معنیٰ دَ﴿شَكُوْرًا﴾ ده نو ولے دَخپل نیکونونه مخالفت کوئے او ﴿ذُرِّیَّةَ﴾ نه مخکښ لفظ دَ یا اوپه آخردَ ایت کښ لفظ اشکروا پټ دے۔

الْكِتٰبِ لَتُفْسِدُنَّ فِي الْاَرْضِ مَرَّتَيْنِ وَلَتَعْلُنَّ عُلُوًّا كَبِيْرًا ۞ فَاِذَا جَآءَ وَعْدُ اُوْلٰىهُمَا بَعَثْنَا عَلَيْكُمْ عِبَادًا
لَّنَآ اُولِيْ بَاْسٍ شَدِيْدٍ فَجَاسُوْا خِلٰلَ الدِّيَارِ ۭ وَكَانَ وَعْدًا مَّفْعُوْلًا ۞ ثُمَّ رَدَدْنَا لَكُمُ الْكَرَّةَ عَلَيْهِمْ وَ
اَمْدَدْنٰكُمْ بِاَمْوَالٍ وَّبَنِيْنَ وَجَعَلْنٰكُمْ اَكْثَرَ نَفِيْرًا ۞ اِنْ اَحْسَنْتُمْ اَحْسَنْتُمْ لِاَنْفُسِكُمْ ۡ وَاِنْ اَسَاْتُمْ فَلَهَا ۭ

کتاب کښے خامخا فساد به کوئ په زمکه کښے دوه کرته او لوئی به کوئ تاسو لوئی ډیره (٤) پس هر کله چه راغله نیټه د اول فساد نو را اولیږل مونږ په تاسو باندے بندګان زمونږ چه ډیر سخت جنګ والا ؤو پس ورننوتل په مینځ د کورونو کښے او دا وه وعده پوره کړے شوے (٥) بیا واپس درکړه مونږ تاسو ته غلبه په هغوی باندے او زیاتی کړو مونږ ستاسو مالونه اوځامن او جوړ کړئ مونږ تاسو ډیرے ډلے والا(٦) (اُوئیل مونږ) که تاسو په توحید باندے کلك شوئ نوفائده مو، خپل ځان ډپاره ده اوکه تاسو بدی کوئ پس خاص به وی ستاسو په نفسونو پورے

[٤] هرکله چه تیرشوی آیاتونوکښ مسئله د توحید ئیے په دلیلونوسره ثابته کړه نواوس حال د بنی اسرائیلو ذکر کوی چه هرکله دوی د دے مسئلے د توحیدنه دوه کرته مخالفت اوکړونود اللّٰه تعالیٰ د طرف نه په دوی باندے ظالمان بادشاهان مسلط کړے شول اودا د اللّٰه تعالیٰ عذاب دنیوی دے په سبب د انکار د توحید سره چه په خلقوباندے راځی۔ اوس هم دا عبرت دے چه نن زمانه کښ هم د اسلام په دعویٰ کوونکو باندے ظالمان بادشاهان مسلط دی یا د دشمن په مقابله کښ کمزروی دی دا د دے وجے نه چه په عقیدوکښ صحیح توحیدنیشته بلکه په هرقسم شرکیاتواونورو ظلمونوکښ اخته شوی دی هاں لږ کسان به وی د قیامت ترنزدیکت پورے چه هغوی به په توحید باندے کلك اومضبوط وی په سبب د حدیث د لاتزال طائفة من امتی سره په ﴿قَضَيْنَآ﴾ کښ اشاره ده چه دا په تورات کښ په طریقه د پیشنګوئے سره ذکرده لکه زمونږ نبی ﷺ د ډیرو فتنو او ملاحمو پیشنګوئیے کړی دی اوهغه رشتیا دی ﴿لَتُفْسِدُنَّ﴾ مراد د فساد نه مخالفت کول دی د شریعت د موسیٰ علیه السلام نه او بیا د شریعت د عیسیٰ علیه السلام نه په شرك کولوسره، یعنی د موسیٰ علیه السلام نه روستودوی د الیاس علیه السلام اود عزیر علیه السلام زمانه کښ په شرك کښ اخته شول اودارنګ پس د رفع د عیسیٰ علیه السلام نه دوی عیسیٰ علیه السلام د اللّٰه تعالیٰ سره شریك کړواوهغه ته ئیے د اللّٰه تعالیٰ ځوئے اوئیلواودارنګ په دواړو زمانوکښ احباراورهبان ئیے د اللّٰه تعالیٰ سره شریك کړل اوقبورود انبیاء او د بزرګانونه ئیے مساجد جوړ کړل نودیته فساد وائي ﴿وَلَتَعْلُنَّ﴾ په دے کښ اشاره ده نوروظلمونواومعاصی او بدعاتو ته اوتعدی کول په حقوق العبادکښ اودا په دوی کښ په کثرت سره ښکاره شول د دے وجے نه ئیے ﴿عُلُوًّا كَبِيْرًا﴾ اُوئیل۔

[٥] په دے ایت کښ ﴿عِبَادًا لَّنَآ﴾ نه مراد جالوت اود هغه ملګری دی۔ اود هغوی واقعه په سورة بقره کښ تیره شویده ﴿فَجَاسُوْا﴾ مراد د دینه د کورونوتالاشی کول اود هغے بے عزتی کول اود هغے نه خلق شړل دی اولفظ د لَنَا کښ لام د ملکیت د پاره دے یعنی دغه بندګان اګرچه ظالمان وؤ خوهغوی هم په اختیاراو تصرف د اللّٰه تعالیٰ کښ وؤ۔

[٦] اشاره ده هغه واقعے ته چه سورة بقره کښ تیره شوے ده چه داؤد علیه السلام جالوت لره قتل کړواو اللّٰه تعالیٰ بنی اسرائیلولره فتحه ورکړه اودد وی نسل ئیے زیات کړوپه سبب د واپس کیدلود دوی توحید اوطاعت ته۔

فَاِذَا جَآءَ وَعْدُ الْاٰخِرَةِ لِيَسُوْٓءٗا وُجُوْهَكُمْ وَلِيَدْخُلُوا الْمَسْجِدَ كَمَا دَخَلُوْهُ اَوَّلَ مَرَّةٍ وَّلِيُتَبِّرُوْا مَا عَلَوْا تَتْبِيْرًا ۝۷ عَسٰى رَبُّكُمْ اَنْ يَّرْحَمَكُمْ ۚ وَاِنْ عُدْتُّمْ عُدْنَا ۘ وَجَعَلْنَا جَهَنَّمَ لِلْكٰفِرِيْنَ حَصِيْرًا ۝۸ اِنَّ هٰذَا الْقُرْاٰنَ يَهْدِيْ لِلَّتِيْ هِيَ اَقْوَمُ وَيُبَشِّرُ الْمُؤْمِنِيْنَ الَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ الصّٰلِحٰتِ اَنَّ لَهُمْ اَجْرًا كَبِيْرًا ۝۹ وَّاَنَّ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ اَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ۝۱۰ وَيَدْعُ الْاِنْسَانُ بِالشَّرِّ دُعَآءَهٗ بِالْخَيْرِ ۭ وَ

پس کله چه راغله نیټه دَ روستنی فساد (مقرر کړل مونږ په تاسو ظالمان) چه وران ویجاړ کړی مخونه ستاسو او چه داخل شی مسجدونو ته لکه چه داخل شوی ؤو اول ځل او چه تس نس کړی هغه څه چه وس ئے برشی پوره تس نس کول(۷) نزدے ده چه رب ستاسو رحم او کړی په تاسو باندے او که تاسو او گرځیدلے (فساد ته) اوبه گرځؤو مونږ (ستاسو سزاته) او مقرر کړے دے مونږ جهنم دَ کافرانو دپاره جیلخانه (۸) یقیناً دا قرآن خودنه کوی دَهغه لارے چه هغه نیغه ده اوزیږے ورکوی مؤمنانوته هغه کسان چه عملونه کوی برابر دَ سنت سره چه یقیناً دوی لره ثواب لوئے دے(۹) او یقیناً هغه خلق چه ایمان په آخرت نه لری تیار کړیدے مونږ دوی لره عذاب درد ناك (۱۰) اوغواړی انسان بدئے لره پشان دَ غوختلو دَخیر او

[۷] دَاحسان نه مراد دا دے که تاسوپه توحید باندے کلك پاتے شئے نوداستاسوفائده ده ﴿فَلَهَا﴾ معنیٰ دا ده چه سزادَ دے بدئے دے نفس لره خاص ده لام دَپاره دَ تخصیص دے دپاره دَ نفع نه دے ﴿فَاِذَا جَآءَ وَعْدُ الْاٰخِرَةِ﴾ په دیکښ اشاره ده چه هرکله دوی دَ عیسیٰ علیه السلام دَ دین نه مخالف شول اوشرك ئے اوکړو نوقسطنطین بادشاه په دوی باندے مسلط شو ﴿لِيَسُوْٓءٗا وُجُوْهَكُمْ﴾ معنیٰ داده چه په تاسوباندے نورظالمان مقررکړل نوعاقبت داشو چه هغوی داسے ظلمونه اوکړل چه ستاسو مخونه ئے وران کړل یا دَ وُجُوه نه مراد سرداران اومشران دی چه هغوی ئے ذلیل کړل ﴿وَلِيَدْخُلُوْا﴾ نه مراد داخلیدل دی مسجدته دَپاره دَشرك کولواودَپاره دَخرابولودَ هغے لفظ دَ ﴿تَتْبِيْرًا﴾ کښ اشاره ده چه دَ دوی فساد دَمخکنوپه نسبت باندے ډیروؤ۔

[۸] په دے ایت کښ په لفظ دَیرحمکم کښ اشاره ده بعث دَ نبی ﷺ ته ﴿وَاِنْ عُدْتُّمْ عُدْنَا﴾ په دیکښ اشاره ده چه هرکله دوی دَاخری رسول نه مخالفت اوکړونونبی ﷺ بنونضیراوشړل اوبنوقریضه ئے اکثراووژل اوبیا دَعمر ﷺ زمانه کښ ئے دَ جزیرة العرب نه هم اوشړل۔

[۹،۱۰] دا ایت تعلق لری دَ دعوے دَتوحید سره چه ﴿سُبْحَانَ﴾ ده، چه دامسئله دَ دے کتاب ده نودا دلیل وحی دے۔ اوترغیب دے بنی اسرائیلواوعاموانسانانولره قرآن ته اودَ قرآن حکمت دَنزول ئے ذکرکړے دے چه دا هدایت اوبشارت اوانذار دے ﴿وَاَنَّ الَّذِيْنَ﴾ نه مخکښ يَنذِرِيا يخبرپت مراد دے اودا دواړه حکمتونه تفصیلاً دَ سورة کهف په اول کښ ذکرکړی دی ﴿لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ﴾ اشاره ده چه سبب دَ فساداتواوظلمونوکولوانکار دے دَ آخرت نه۔

كَانَ الْاِنْسَانُ عَجُوْلًا ﴿۱۱﴾ وَجَعَلْنَا الَّيْلَ وَالنَّهَارَ اٰيَتَيْنِ فَمَحَوْنَآ اٰيَةَ الَّيْلِ وَجَعَلْنَآ اٰيَةَ النَّهَارِ مُبْصِرَةً
لِّتَبْتَغُوْا فَضْلًا مِّنْ رَّبِّكُمْ وَلِتَعْلَمُوْا عَدَدَ السِّنِيْنَ وَالْحِسَابَ ؕ وَكُلَّ شَيْءٍ فَصَّلْنٰهُ تَفْصِيْلًا ﴿۱۲﴾ وَكُلَّ
اِنْسَانٍ اَلْزَمْنٰهُ طٰٓئِرَهٗ فِيْ عُنُقِهٖ ؕ وَنُخْرِجُ لَهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ كِتٰبًا يَّلْقٰىهُ مَنْشُوْرًا ﴿۱۳﴾ اِقْرَاْ كِتٰبَكَ ؕ كَفٰى

دے انسان تلوار ګندے (۱۱) او ګرځولی دی مونږ شپه او ورځ دوه دلیلونه دَ توحید پس کمه کړیده مونږ نښه دَ شپے او ګرځولے ده مونږ نښه دَ ورځ رنړا والا دپاره دَ دے چه طلب کړئے فضل دَ رب دَ طرف نه او دے دپاره چه اوپیژنئ شمار دَ کلونو او حساب لره او هر(ضروری) شے واضح کړیدے مونږ په پوره وضاحت سره (۱۲) او هر انسان سره لازم کړے دے مونږ عمل دَهغه په غاړه دَ هغه کښے او راوباسوبه دهٔ لره دَ قیامت په ورځ یو کتاب چه مخامخ به شی ورسره خور اور(۱۳) اولوله کتاب خپل پوره دے

[۱۱] په دے ایت کښ زجردے په استعجال دَعذاب سره یعنی دَ قرآن نه هدایت اخستل پکاردی لیکن دَهغه په مقابله کښ دعاءِ شرشروع کړله لکه په سورة انفال(۳۲) کښ ﴿دُعَآءَهٗ بِالْخَيْرِ﴾ لکه په سورة حم سجده (۴۹) کښ اوسورة روم (۳۳) کښ ﴿وَكَانَ الْاِنْسَانُ عَجُوْلًا﴾ یعنی فطری طورسره انسان په هرکارکښ تلوارکوی لکه سورة انبیاء (۳۷) کښ دی یا دا معنیٰ ده چه انسان دنیا فانی غوره کوی چه عاجله ده په آخرت باندے چه آجل دے۔

[۱۲] دا دلیل عقلی متعلق دے دَ دعوٰی توحید سره اوزجردے چه انسان عجلت کوی لیکن پکاردی چه په دے ایاتونو(لیل ونهار) کښ فکراوکړی ﴿اٰيَتَيْنِ﴾ یعنی شپه اوورځ دَ اللّٰه تعالیٰ دَقدرت اودَتوحید دوه دلیلونه دی۔ اوروستو اية الليل او اية النهارکښ اضافت بیانیه دے۔ یامراد دَ ایتین نه شمس وقمردی تقدیرد َ ایت دا دے (وَجَعَلنَاالّلیل والنهار ایتین) یعنی پیداکړیدی مونږدَشپے اودَ ورځے دپاره دوه علامتونه جدا جدا نوپه اوله توجیه باندے دَمحونه مرادتیاره دَشپے ده اوبنا په دویمه توجیه دَ محونه مرادتورداغ دے په سپوګمئے کښ ﴿لِتَبْتَغُوْا﴾دا متعلق دے دَشپے اوورځ دواړوسره ځکه چه دَشپے هم فضل طلب کیدے شی په عبادت کولوسره، یا دا متعلق دے صرف دَ اية النهارسره اومتعلق دَشپے پټ دے لکه په سورة قصص (۷۳) کښ دی۔ ایت کښ دلیل دے چه حساب کول په نمرسره جائزدی لیکن په هلال سره حساب کول فرض کفائي دی ﴿وَالْحِسَابَ﴾ دَ دے نه مراد حساب دَ ورځواودَ هفتواودَمیاشتودے او ﴿فَصَّلْنٰهُ تَفْصِيْلًا﴾ داسے دے لکه تبیاناً لِکُل شَیءٍ مراد ترینه ضروریات دَ دین دی چه په قرآن کریم کښ ذکرشویدی۔ یا مراد دا دے چه په خارج کښ څیزونه دَ فائدو اخستلو اللّٰه تعالیٰ جدا جداپیداکړی دی۔

[۱۳] په دے کښ تخویف اخروی دے او ﴿طٰٓئِرَهٗ﴾ طائر په معنیٰ دَعمل سره دے که خیروی او که شروی که دَشپے کوی یا دَ ورځے نودَمخکښ ایت سره ربط راغے۔ یعنی هرانسان مکلف سره هغه عمل دے چه کړے ئے وی نودَ دهٔ په غاړه دے یعنی دهٔ لره به دَ هغے جزاسزاضرور ورکولے کیدے شی۔ یا طائرپه معنیٰ دَ قسمة دے یعنی سعادت اوشقاوت یعنی دَتقدیرپه وجے سره هرانسان سره سعادت یا شقاوت لازم دے او ﴿فِيْ عُنُقِهٖ﴾ په عرف کښ ذکرکیږی دَپاره دَ لزوم اودَ ذمه دارئے۔

بِنَفْسِكَ الْيَوْمَ عَلَيْكَ حَسِيْبًا ﴿١٤﴾ مَنِ اهْتَدٰى فَاِنَّمَا يَهْتَدِيْ لِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ ضَلَّ فَاِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيْهَا ؕ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰى ؕ وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِيْنَ حَتّٰى نَبْعَثَ رَسُوْلًا ﴿١٥﴾ وَاِذَآ اَرَدْنَآ اَنْ نُّهْلِكَ قَرْيَةً اَمَرْنَا مُتْرَفِيْهَا فَفَسَقُوْا فِيْهَا فَحَقَّ عَلَيْهَا الْقَوْلُ فَدَمَّرْنٰهَا تَدْمِيْرًا ﴿١٦﴾ وَكَمْ اَهْلَكْنَا مِنَ الْقُرُوْنِ

ستا نفس نن ورځ په تا باندے حساب کؤونکے (١٤) چاچه هدایت اومونډلو پس یقیناً هدایت ئے اومونډلو دپاره ډَخان خپل او څوك چه بے لارے شو پس یقیناً بے لارے کیږی وبال به په هغه باندے وی اونه شی پورته کولے پیټی والا پیټے دَ بل چا اومونږ نه یو عذاب ورکؤونکی تردے پورے چه اولیږو رسول (١٥) اوکله چه اوغواړو مونږ چه هلاك کړو یوکلے نو حکم اوکړو عیش پرستو دَهغے کلی ته (دَ توحید) پس نافرمانی اوکړی په هغے کښ پس پوره شی په هغوی باندے فیصله دَ عذاب نوتباه کړو مونږ هغوی لره په لوئے تباهئ سره (١٦) او ډیر هلاك کړیدی مونږ پیړئ

[١٤] دا هم تخویف کښ داخل دے اومطلب دا دے که امی وی اوکه لوستونکے وی لیکن خپل کتاب دَ اعمالوبه خپله اولولی اوداسے په سورة القیامة (١٤) کښ هم دی۔

[١٥] په دے ایت کښ آثاردَعملونو(هغه عملونه چه په عملنامه کښ لیکلے شویدی) اونتیجه دَحساب ذکرکوی چه هرکس دَخپل عمل نتیجه دَخیریادَشربه اومومی، په بل چا باندے بوج نشی راتلے ﴿وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰى﴾ دا رد دے په هغه چا باندے چه عمل کوی او وائي چه ماته فلانی وئیلی دی ازارګناه به هغه باندے وی ﴿وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِيْنَ﴾ مراد دَ دینه عذاب دنیوی دے چه هغه موقوف دے په رسول لیګلو باندے یعنی خبر رسولوباندے اګرچه په واسطه دَنائب دَ رسول وی دارنګ په سورة هود (١١٧) کښ اوانعام (١٣١) کښ ذکردی۔ اودلیل دے په دے خبره باندے چه چاته دعوت دَحق نه وی رسیدلے نو هغه مستحق دَعذاب نه دے۔ اوهرچه عذاب اخروی دے نوبعضِ اهل عملو وئیلی دی اودا دَ امام ابوحنیفهؒ نه هم روایت دے چه په باب دَتوحیداودَایمان کښ صرف تنبیه ضروری ده اوتوحید حاصلیږی په عقل سره اوپه داعی سره، نوهرکله چه عقل پکښ وی اودعوت ورته نه وی رسیدلے نودَ ایمان اودَتوحید په باره کښ به ترینه تپوس کیدلے شی اواکثرمحدثینووئیلی دی چه دا ایت اوداسے نور ایاتونه عام هم شته دے چه مراد ئے دادے چه په غیردَ رسیدلودَ دعوت نه عذاب اخروی هم نه ورکوی اودا قول غوره دے۔ اوپه دے باندے دَبخاری دَیوحدیث سره اعتراض کیدیشی چه په هغے کښ وئیلی دی چه دَ اوردَپاره به اخرت کښ نورخلق پیداکړی۔ نوهغوی ته خودعوت نه دے کړے شوے اواورته به داخلیږی دَ دے تفصیل ابن کثیر ذکرکړے دے یوداچه دا په راوی باندے قلب راغلے دے په اصل کښ داجمله په باره دَ جنت کښ ده۔ اودَجهنم په باره کښ خوصحیح روایت کښ راغلی دی چه اللّٰه تعالیٰ به په هغے کښ خپل قدم کیدی نوهغه به ډك شی۔ اودارنګ ابن کثیردَ دے ایت دَلاندے حکم دَ اهل فترة اودَ اطفال المشرکین په تفصیل سره ذکرکړے دے۔

[١٦] په دے ایت کښ تخویف دنیوی دے اودا تفصیل دَتیرشوی ایت دے یعنی هرکله چه اللّٰه تعالیٰ اراده دَ اهلاك دَیوقوم اوکړی نودَرسولانوپه واسطه سره دَ هغے مالدارانوته امردَتوحید اودَطاعت اوکړی لیکن هغوی مخالفت اوکړی نوعذاب پرے راشی۔ نواشاره شوه چه هرځه دَ اللّٰه تعالیٰ په ارادے سره کیږی لیکن

مِنْۢ بَعْدِ نُوْحٍ ؕ وَكَفٰى بِرَبِّكَ بِذُنُوْبِ عِبَادِهٖ خَبِيْرًۢا بَصِيْرًا ﴿١٧﴾ مَنْ كَانَ يُرِيْدُ الْعَاجِلَةَ عَجَّلْنَا لَهٗ فِيْهَا
مَا نَشَآءُ لِمَنْ نُّرِيْدُ ثُمَّ جَعَلْنَا لَهٗ جَهَنَّمَ ۚ يَصْلٰىهَا مَذْمُوْمًا مَّدْحُوْرًا ﴿١٨﴾ وَمَنْ اَرَادَ الْاٰخِرَةَ وَسَعٰى
لَهَا سَعْيَهَا وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَاُولٰٓئِكَ كَانَ سَعْيُهُمْ مَّشْكُوْرًا ﴿١٩﴾ كُلًّا نُّمِدُّ هٰٓؤُلَآءِ وَهٰٓؤُلَآءِ مِنْ عَطَآءِ رَبِّكَ ؕ

روستو دَنوح(علیہ السلام) نه اوپوره دے ستا رب په ګناهونو دَبندګانو خپلو باندے خبردار لیدونکے (۱۷) څوك چه غواړی دنیا (په بدله دَ عمل خپل) نو ورکړو مونږ دهٔ لره په دے دنیا کښے څومره چه اوغواړو دَ چا دپاره چه مونږ اوغواړو بیا مقرر کړیدے مونږ دَ دهٔ دپاره جهنم داخل به شی ورته بدوئیلے شوے ړلے شوے (۱۸) او څوك چه غواړی اخرت اوکوشش کوی هغے لره کوشش خپل او دے مؤمن وی پس دغه خلق دَ دوی کوشش قبول کړے شوے دے (۱۹) دَهر یو سره امداد کؤو مونږ دَ دے دنیا پرستو سره او دَ دے دیندارو سره دا دَ بخښش دَ رب ستانه دے

الله تعالیٰ هغے له سبب هم جوړئ نودَامرنا معنیٰ دا شوه چه امرنا بهم بالتوحید والطاعة۔ یا(امرنا) معنیٰ ډیرول دی یعنی ډیر کړومونږمالدارانولره یعنی دَهغوی مالونه وغیره په طوردَاستدراج سره ډیرشی ځکه چه ژبه دَعربو کښی کله امرپه معنیٰ دَکثُرسره راځی اودا دَ ابن عباس اوابن مسعود رضی الله عنهم نه روایت دے۔﴿فَدَمَّرْنٰهَا تَدْمِيْرًا﴾ تدمیراکثر په هغے کښی استعمالیږی چه هلاکت په یوقوم باندے په یوځائے راشی او تتبیرعام دے که لږلږعذاب وی اوکه په یوځائے وی۔

[۱۷] په دے آیت کښی تخویف دنیوی دے په ذکردَاقواومکذبوسره او﴿مِنْۢ بَعْدِ نُوْحٍ﴾ لفظ ئے دَ دے وجے نه اُوئیلوچه ذکردَ قوم نوح ته په ایت (۳) کښی اشاره تیره شوے ده ﴿مِنْۢ بَعْدِ نُوْحٍ﴾ کښی اشاره ده چه دَ آدم علیہ السلام نه ترنوح علیہ السلام پورے خلق په توحید باندے وؤدَ دے وجے نه په هغوی باندے عذاب نه دے راغلے۔ ﴿خَبِيْرًۢا﴾ هغه ذات چه عالم وی دَځیزونوپه باطن اورازونوباندے۔

[۱۸] په دے آیت کښی تخویف اخروی دے هغه چاړه چه دین ذریعه ګرځوی دَپاره دَ دنیا اونه قصدکوی په هغے سره رضا دَ الله تعالیٰ او﴿مَانَشَآءُ﴾ دلیل دے چه دَ دغه انسان ټولے تمناګانے نه حاصلیږی او﴿لِمَنْ نُّرِيْدُ﴾ په دے کښی اشاره ده چه هرطلبګاردَ دنیا ته هم دنیا نه حاصلیږی هرځه دَالله تعالیٰ په مشیت اوارادے باندے موقوف دی اودارنګ دَسورهٔ شوریٰ په (۲۰) کښی دی لیکن هغه مطلق مقید دے په سبب دَ دے ایت سره۔

[۱۹] په دے ایت کښی بشارت دے، او﴿سَعْيَهَا﴾ دَ دے نه مراد هغه عمل دے چه دَسنت سره موافق وی دارنګ ابن کثیر ذکرکړیدی دا آیت دلیل دے په دے خبره چه دَعمل دَقبولیت دَپاره دوه شرطونه دی یوایمان اودویم عمل موافق دَسنت ﴿مَّشْكُوْرًا﴾ قبلول دَ عمل دی په داسے طریقه چه دَ هغے برکات په دنیاکښی هم سکاریږی اوپه اخرت کښی هم۔

وَمَا كَانَ عَطَآءُ رَبِّكَ مَحْظُوْرًا ﴿٢٠﴾ اُنْظُرْ كَيْفَ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ ؕ وَلَلْاٰخِرَةُ اَكْبَرُ دَرَجٰتٍ وَّاَكْبَرُ
تَفْضِيْلًا ﴿٢١﴾ لَا تَجْعَلْ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ فَتَقْعُدَ مَذْمُوْمًا مَّخْذُوْلًا ﴿٢٢﴾ وَقَضٰى رَبُّكَ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّآ اِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ
اِحْسَانًا ؕ اِمَّا يَبْلُغَنَّ عِنْدَكَ الْكِبَرَ اَحَدُهُمَآ اَوْ كِلٰهُمَا فَلَا تَقُلْ لَّهُمَآ اُفٍّ وَّلَا تَنْهَرْهُمَا وَقُلْ لَّهُمَا قَوْلًا
كَرِيْمًا ﴿٢٣﴾ وَاخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ وَقُلْ رَّبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيٰنِيْ صَغِيْرًا ﴿٢٤﴾ رَبُّكُمْ اَعْلَمُ

اونه دے بخښش دَ رب ستا بند کړے شوے (۲۰) او ګوره چه څرنګ غوره والے ورکړیدے مونږ بعضو دَ دوی لره په بعضو باندے او خامخا اخرت ډیر لویو درجووالا دے او ډیر لوے فضیلت والا دے(۲۱) مه جوړوه دَ اللّٰه تعالیٰ سره حق دار دَبندګئ بل پس ناست به پاتے شے بدوئیلے شوے شرمیدلے (۲۲) او فیصله کړیده ستارب چه بندګی سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه دَبل چامه کوئ او دَمور او پلار سره بنیګړه کوئ که اورسی ستا په ژوند کښے بوډا والی ته یو دَ دے دواړونه یادواړه پس مه وایه دوی ته اُف قدرے او زورنه مکوه دوی ته او وایه دوی ته وینا ادب ناکه (۲۳) او کوز کړه دوی ته وزر دَ عاجزئ دَ شفقت دَ وجے نه اووایه اے ربه زما رحم او کړے په دوی باندے لکه چه دوی زما پالنه کړیده په وړوکوالی کښے (۲٤) رب ستاسو ښه پوهه دے

[۲۰] دا ایت دَمخکښ دواړوایتونوسره متعلق دے اوپه دے کښ اشاره ده دے خبرے ته چه اللّٰه تعالیٰ دَمشرکانوحاجتونه هم پوره کوی اودَمؤمنانوهم پوره کوی﴿عَطَآءِ رَبِّكَ﴾مرادد دینه عطاء ده په دنیاکښ اودامصداق دَرحمانیت دے اوپدیکښ رد دے په مشرکانوباندے چه دَشرك کولوسره دَهغوی حاجتونه پوره کیږی اوهغوی داپه خپل حجت کښ پیش کوی۔

[۲۱] په دے ایت کښ ذکردے دَ دے خبرے چه عطاء دَ اللّٰه تعالیٰ په دنیاکښ په طریقه دَمساوات سره نده بلکه په طریقه دَ فرق سره ده ﴿وَلَلْاٰخِرَةُ اَكْبَرُ دَرَجٰتٍ﴾ پدیکښ اشاره ده چه دَ دنیا ترقی طلب کول نه دی پکار بلکه طلب دَ اخرت پکار دے۔ اواَکبَرُ اسم تفضیل کښ اشاره ده چه په دنیاکښ هم تفاوت شته لیکن تفاوت دَ اخرت ډیرزیات دے۔

[۲۲] دَ دے ایت نه شروع کیږی ذکردَهغے دریوځیزونوچه په هغے سره عذاب دفع کیږی اودَاموررسیب دَحصول دَدرجاتو دَاخرت دی چه اول په هغے کښ دَشرك نه بچ کیدل دی اوپدیکښ منع ده دَشرك فی الالوهیت نه ﴿مَذْمُوْمًا﴾ هغه چاته وئیلے کیږی چه دَهغه بدئے اوعیبونه وئیلے کیدے شی او﴿مَخْذُوْلًا﴾ هغه چاته وائی چه دَضرورت په وخت کښ دَهغه دوست اومددګارنه وی نومشرك به په ورځ دَقیامت په داسے حال کښ شی چه نه به ئے اللّٰه تعالیٰ مددکوی اونه دَ دوی معبودان او﴿فَتَقْعُدَ﴾ دلالت کوی چه داحال به دَ دَه همیشه وی ځکه چه قعود دلالت کوی په مضبوطوالی اودارنګ اشاره ده چه مذموم اومخذول سړے دَ اوریدلوطاقت نه لری۔

[۲۳] په دے ایت کښ اولاً رد دے دَشرك فی العبادت اودا علت دے دَتیرشوی ایت سره ﴿وَبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا﴾ دَ دے ځائے نه دویم امردے دَپاره دَ دفع دَعذاب چه هغه احسان کول دی دَمخلوق دَ اللّٰه تعالیٰ سره اوپه دے ایت کښ درے اداب دی اواحسان کول دَ والدینوئیے دَتوحید دَ اللّٰه تعالیٰ سره متصل ذکر

بِمَا فِیْ نُفُوْسِكُمْ ؕ اِنْ تَكُوْنُوْا صٰلِحِیْنَ فَاِنَّهٗ كَانَ لِلْاَوَّابِیْنَ غَفُوْرًا ﴿٢٥﴾ وَاٰتِ ذَا الْقُرْبٰى حَقَّهٗ وَالْمِسْكِیْنَ
وَابْنَ السَّبِیْلِ وَلَا تُبَذِّرْ تَبْذِیْرًا ﴿٢٦﴾ اِنَّ الْمُبَذِّرِیْنَ كَانُوْٓا اِخْوَانَ الشَّیٰطِیْنِ ؕ وَكَانَ الشَّیْطٰنُ لِرَبِّهٖ كَفُوْرًا ﴿٢٧﴾

په هغه څه چه ستاسو په زړونو کښے دی که تاسو په زړه کښے اخلاص مندیئ نو یقیناً اللّٰه تعالیٰ دے توبه کوونکوته بخنه کوونکے (۲۵) او ورکوه خپلوانو ته حق دَهغوی او مسکین ته او مسافر ته او مال مه خرچ کوه په بے ځایه خرچ کولو سره (۲۶) یقیناً بے ځایه خرچ کوونکی دی رونړه دَ شیطانانو او دے شیطان دَخپل رب نه ډیرنا شکره (۲۷)

کړے دے دلته اوپه سورة بقره (۸۳) اوسورة نساء (۳۶) کښ هغے یووجه دا ده چه معلومه شی چه دَاللّٰه تعالیٰ په بندګئے کښ موراوپلاربه هم نه شریکوئے بلکه هغوی سره به صرف احسان کوئے۔دویمه وجه داده چه حق دَموراوپلاردانه دے چه په شرك اوپه ګناه کښ دَهغوی طاعت اوکړیشی بلکه دَهغوی حق احسان کول دی اودَاحسان درے طریقے دی اول داچه دَهغوی خیربه لټوئے په دعوة الی الحق سره په شان دَابراهیم علیه السلام اودویمه طریقه داده چه دَهغوی خدمت به کوئے اودریمه طریقه مال خرچ کول دی په هغوی باندے ﴿وَلَا تَنْهَرْهُمَا﴾ ابن کثیروئیلی دی چه مرادَ دینه لاس پورته کول دی په هغوی باندے اوصدور دَفعل قبیح ﴿فَلَا تَقُلْ لَّهُمَآ اُفٍّ﴾ اُف دا اوازدے چه صادریږی دَخلے نه په وخت دَبد ګټرلو دَیو څیز کښ نومراد دَ اُف نه هریو ردی کلام دے چه هغه سبب دَخفګان دَموراوپلاروی۔

[۲۴] ﴿وَاخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ﴾ په دے ایت کښ دوه اداب دی اوداکنایه ده دَشفقت اودَ رحمت نه دَهغوی سره لکه سورة حجر ایت (۲۸)کښ ذکرشویدی اودلته ئے لفظ الذُّل ذکرکړیدے ځکه دلته معنی دَ طاعت اودَ خدمت مراد ده او ﴿مِنَ الرَّحْمَةِ﴾کښ اشاره ده چه دا طاعت اوخدمت دَ وجے دَرحم دَ زړه نه به وی نه دَریا اونه دَعادت نه ﴿وَقُلْ رَّبِّ ارْحَمْهُمَا﴾ په دے کښ اشاره ده دے خبرے ته چه اولاد حق دَموراوپلارنه شی پوره کولے نودا دعا دَ هغے قائم مقام ده۔

[۲۵] په دیکښ اشاره ده صحیح کولودَنیت ته په احسان دَموراوپلارکښ ﴿صٰلِحِیْنَ﴾ نه مراد اخلاص کوونکی دَنیت دی په احسان دَوالدینوکښ﴿فَاِنَّهٗ كَانَ لِلْاَوَّابِیْنَ غَفُوْرًا﴾ په دے کښ اشاره ده دے خبرے ته چه دا دواړه صفتونه چه صالحین او اوابین دی دَ دوی یوبل سره ملازمه ده۔ اَوَّاب هغه چاته وائي چه دَګناه نه توبه اوباسی اوبیا چه کله ګناه یادوی نواستغفار وائي۔

فائده: حدیث صحیح کښ راغلی دی چه صلوة الاوابین په هغه وخت کښ دے چه زمکه په نمربانده داسے ګرمه شی چه دَاوښانودَ بچوخپے سوزوی اوهغه وخت دَضحیٰ دے۔ اودا خبره چه مشهوره ده په عاموخلقوکښ چه صلوة الاوابین دَ مابښام په وخت کښ نفل کول دی نودا خبره غلطه ده۔

[۲۶] روستودَحق دَوالدینونه نوردرے حقداران په دے ایت کښ ذکردی او﴿تَبْذِیْرًا﴾ دیته وائي چه مال په ناحقه طریقے سره خرچ کړی اګرچه یو روپئے وی لکه په نذردَغیراللّٰه تعالیٰ کښ خرچ کول اوپه بدعاتواورسمونوکښ خرچ کول۔

[۲۷] مبذرځکه رور دَشیطان دے چه شیطان باطل ته خلق رابلی نومبذردَمال په ذریعه دَ شیطان امداد

وَاِمَّا تُعْرِضَنَّ عَنْهُمُ ابْتِغَآءَ رَحْمَةٍ مِّنْ رَّبِّكَ تَرْجُوْهَا فَقُلْ لَّهُمْ قَوْلًا مَّيْسُوْرًا ﴿۲۸﴾ وَلَا تَجْعَلْ يَدَكَ مَغْلُوْلَةً
اِلٰى عُنُقِكَ وَلَا تَبْسُطْهَا كُلَّ الْبَسْطِ فَتَقْعُدَ مَلُوْمًا مَّحْسُوْرًا ﴿۲۹﴾ اِنَّ رَبَّكَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَقْدِرُ ؕ
اِنَّهٗ كَانَ بِعِبَادِهٖ خَبِيْرًا بَصِيْرًا ﴿۳۰﴾ وَلَا تَقْتُلُوْٓا اَوْلَادَكُمْ خَشْيَةَ اِمْلَاقٍ ؕ نَحْنُ نَرْزُقُهُمْ وَاِيَّاكُمْ ؕ اِنَّ قَتْلَهُمْ
كَانَ خِطْاً كَبِيْرًا ﴿۳۱﴾ وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنٰٓى اِنَّهٗ كَانَ فَاحِشَةً ؕ وَسَآءَ سَبِيْلًا ﴿۳۲﴾ وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِيْ حَرَّمَ اللّٰهُ

او که ته مخ ګرځوے د دوی نه دپاره دَطلب کولو دَرحمت د رب ستا چه امید ئے لرے نو وایه دوی ته وینا نرمه (۲۸) اومه ګرځوه لاس خپل ترلے شوے دَغاړے سره اومه پرانیزه لاس خپل په پوره پرانستلو سره نو ناست به پاتے شے ملامته ستومانه (۲۹) یقیناً ستا رب فراخوی رزق چاڅه چه اوغواړی او تنګوی۔ یقیناً دے په خپلو بندګانو باندے خبردار لیدونکے (۳۰) اومه وژنئ بچی خپل دَوجے د ویرے دَلورے نه مونږ روزی ورکؤو دوی لره او تاسو لره یقیناً د دوی وژل ګناه لوئے دے (۳۱) اومه نزدے کیږئ زنا ته یقیناً دے زنا کار دَے حیایئ او بده لار ده (۳۲) اومه وژنئ هغه نفس لره چه حرام کړیدے اللّٰه تعالیٰ وژل دَهغه

کوی۔ دارنګ شیطان د رب نا شکره دے نوداسے مبذرهم ناشکره دے نودواړه دَیوبل سره مشابه شول۔

[۲۸] په دے آیت کښ ذکردَیو ادبِ قولی دے په وخت دَعدم قدرت کښ دَحق اداکولواوپه دے ادب کښ دے ته اشاره ده چه په وخت دَاعراض کولوکښ دَهغوی سپکول اوبے غرتی کول منع دی ﴿قَوْلًا مَّيْسُوْرًا﴾ مراد د دے نه نرمه اوخوږه خبره ده، دویمه معنیٰ دا ده چه دوی له دعا اوغواړه چه په دوی باندے سختی آسانه شی۔

[۲۹] په دے آیت کښ بیان د ادب دے چه هغه میانه روی کول دی په خرچ کولواوپه صدقوکښ اوپه اوله جمله کښ ئے تشبیه دَبخیل ورکړے ده دَهغه چاسره چه لاس ئے دَځپ سره ترلے شوے وی نودَ هغه لاس بندوی دَتصرف کولونه په مال کښ نودغه حال دَبخیل دے چه خپل مال ته ئے لاس نه ورسیږی اودویمه جمله کښ مطلب دا دے چه مال بے ځایه مه خرچ کوه اګرچه مباح وی﴿فَتَقْعُدَ﴾ دے کښ اشاره ده چه د دَیږے ملامتیا اوبنیپمانتیا دَوجے نه به داسے شے چه دَځائے نه به نه شے پاسیدے ﴿مَلُوْمًا﴾ د اولے جملے سره تعلق لری او﴿مَّحْسُوْرًا﴾ د دویمے جملے سره تعلق لری۔

[۳۰] دے ایت کښ ترغیب دے انفاق ته چه په انفاق کولوسره رزق نه تنګیږی، نوپه دے ایت کښ دَتیرشووادابوعِلّت بیانوی، هغه دا دے چه اللّٰه تعالیٰ ښه پوهه دے په مصالحودَ بندګانوخپلو چه چاله فراخی د رزق ورکوی اوچاله تنګسیا ورکوی۔ دَدے وجے نه تیرشوی اداب ئے تاسوته اوخودل چه هغه اداب په مینځ د فراخ رزق والا اودَتنګ رزق والا کښ دی۔

[۳۱] د دے ایت نه تر(۳۹) آیت پورے دریم ځیزذکرکوی دَپاره د دفع دَعذاب چه هغه دَظلمونونه ځان بچ کول دی اودلته دَهغے نه اُوه منهیات اودرے مامورات ذکرشوی دی۔ په دے آیت کښ اوله نهی ده دَقتل دَاولاد نه۔ د دے آیت تشریح په تفسیر د سورة انعام کښ آیت (۱۵۱)کښ تیره شوے ده ﴿خِطْاً﴾ دا دلیل دے چه د خطا اطلاق کله په ګناه کبیره هم کیږی۔

[۳۲] په دے کښ دویمه نهی ذکرشویده د ظلم نه چه هغه زناده اولفظ د ﴿لَا تَقْرَبُوْا﴾ دلالت کوی په

اِلَّا بِالْحَقِّ ؕ وَمَنْ قُتِلَ مَظْلُوْمًا فَقَدْ جَعَلْنَا لِوَلِیِّهٖ سُلْطٰنًا فَلَا یُسْرِفْ فِّی الْقَتْلِ ؕ اِنَّهٗ كَانَ مَنْصُوْرًا ﴿٣٣﴾
وَلَا تَقْرَبُوْا مَالَ الْیَتِیْمِ اِلَّا بِالَّتِیْ هِیَ اَحْسَنُ حَتّٰی یَبْلُغَ اَشُدَّهٗ ۪ وَاَوْفُوْا بِالْعَهْدِ ۚ اِنَّ الْعَهْدَ كَانَ
مَسْـُٔوْلًا ﴿٣٤﴾ وَاَوْفُوا الْكَیْلَ اِذَا كِلْتُمْ وَزِنُوْا بِالْقِسْطَاسِ الْمُسْتَقِیْمِ ؕ ذٰلِكَ خَیْرٌ وَّاَحْسَنُ تَاْوِیْلًا ﴿٣٥﴾ وَلَا تَقْفُ
مَا لَیْسَ لَكَ بِهٖ عِلْمٌ ؕ اِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ اُولٰٓئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْـُٔوْلًا ﴿٣٦﴾ وَلَا تَمْشِ فِی

مګر په حق شرعی سره او څوك چه اووژلے شو په ظلم سره پس یقیناً ورکړیدے مونږ وارث دَهغه لره اختیار پس زیاتے دِ نه کوی په وژلو کښے یقیناً دَ دهٔ سره امداد کړے شوے دے (۳۳) اومه نزدے کیږئ مال دَ یتیم ته مګر په داسے طریقه چه خائسته وی (شرعاً) تردے پورے چه اورسی دے ځوانئ خپلے ته او پوره کوئ لوظ لره یقیناً دَ لوظ په باره کښے تپوس به کیدے شی (۳٤) اوپوره کوئ پیمانه کله چه پیمانه کوئ او تول کوئ په تله برابر سره دا غوره کار دے او خائسته انجام والا دے (۳۵) اومه ځه په هغه ځیز پسے چه نه وی تاله په هغے باندے هیڅ دلیل یقیناً غوږونه او سترګے او زړونه دَ دے ټولو په باره کښے دَهر چانه تپوس کیدیشی (۳٦) اومه ګرځه په

دے باندے چه دَزنا اسباب اودواعی(بلنه ورکول)هم حرام دی﴿وَسَآءَ سَبِیْلًا﴾کښ اشاره ده چه دَ زنا کولو نه په انسان کښ قبیح عادات پیداکیږی۔

[۳۳] په دے کښ دریمه نهی ده دَ ظلم نه چه هغه قتل دے بغیردَسبب شرعی نه ﴿سُلْطٰنًا﴾ دَ دے نه مراد قدرت دَقصاص دے په امداد دَبادشاه سره یا دَ دے نه مرادحجت شرعی دے دَپاره دَقصاص﴿فَلَا یُسْرِفْ فِّی الْقَتْلِ﴾ اسراف په قتل کښ په دریوطریقوسره وی یوداچه دَ قاتل په ځائے بل سړے قتل کړی دویم داچه دَیوپه بدل کښ ډیرکسان قتل کړی اودریم داچه دَ مقتول نه اندامونه پریکړی نوداټول حرام دی۔

[۳٤] په دے کښ ځلورمه نهی ده دَظلم نه چه هغه دَیتیم مال خورل دی اودَ دے آیت تشریح په تفسیردَسورة انعام آیت (۱۵۲) کښ تیره شویده پدے آیت کښ یوامردے اودَعهد نه مراد هرهغه شے دے چه اللّٰه تعالیٰ په هغے امرکړے وی یا ئیے دَ هغے نه نهی کړے وی اودارنګ عقدونه کول په کورنئی کښ۔

[۳۵] په دے آیت کښ دوه امرونه دی چه دَهغے نه خلاف کول ظلم دے ﴿بِالْقِسْطَاسِ﴾ قسطاس، میزان دے په لغت دَعربوکښ اګر چه عام عرب په دے باندے خبرنهٔ وو اولغت دَ رومیانودَ دے سره موافق دے لیکن داسے ویناکول غلطه ده چه وائي چه دا لفظ دَ لغت دَروم نه اغستلے شویدے ځکه چه قرآن خالص عربی کتاب دے په دے کښ عجمی لفظ نیشته﴿ذٰلِكَ خَیْرٌ﴾ په دے کښ دنیوی فائدوته اشاره ده ﴿وَاَحْسَنُ تَاْوِیْلًا﴾ اشاره ده راتلونکے فائدوته۔

[۳٦] په دے کښ پنځمه نهی ده دَ ظلم نه چه هغه بهتان لګول اوبے دلیله تابعداری کول دی۔ ﴿وَلَا تَقْفُ﴾ دَ دے معنیٰ دا ده چه طعن مه وایه په چا باندے دَهغے خبرے چه تاسره دَهغے علم نه وی اومراد دَ دے نه بهتان لګول دی اوبله معنیٰ ئیے دا ده چه تابعداری مه کوه دَ هغه خبرے اوحکم چه په هغے باندے دلیل نه وی او﴿عِلْمٌ﴾ لفظ یقین اوغلبے دَظن دواړوته شامل دے اوپه دے آیت کښ دَ درے اندامونوذکردے اودَ دوی په باره کښ تپوس کول دا دی چه دا درے قوتونه ولے په ناحقه استعمال کړے شوی دی، اودویم

الْاَرْضَ مَرَحًا ۚ اِنَّكَ لَنْ تَخْرِقَ الْاَرْضَ وَلَنْ تَبْلُغَ الْجِبَالَ طُوْلًا ﴿٣٧﴾ كُلُّ ذٰلِكَ كَانَ سَيِّئُهٗ عِنْدَ رَبِّكَ
مَكْرُوْهًا ﴿٣٨﴾ ذٰلِكَ مِمَّآ اَوْحٰٓى اِلَيْكَ رَبُّكَ مِنَ الْحِكْمَةِ ؕ وَلَا تَجْعَلْ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ فَتُلْقٰى فِىْ جَهَنَّمَ مَلُوْمًا
مَّدْحُوْرًا ﴿٣٩﴾ اَفَاَصْفٰىكُمْ رَبُّكُمْ بِالْبَنِيْنَ وَاتَّخَذَ مِنَ الْمَلٰٓئِكَةِ اِنَاثًا ؕ اِنَّكُمْ لَتَقُوْلُوْنَ قَوْلًا عَظِيْمًا ﴿٤٠﴾ ع

زمکه کښے په لوئے سره یقیناً ته نه شے شلولے زمکه اوچرے نه شے رسیدلے غرونوته په دنګوالی سره (۳۷) دا ټول په دے کښے خراب کارونه ستا دَرب په نیز باندے ناروا دی (۳۸) داچه ذکر شول دَهغے نه دی چه وحی کړیده تاته رب ستا دَحکمت دَخبرونه اومه کړځوه دَاللّٰه تعالیٰ سره حقدار دَبندګئے بل پس ته به اوغورځولے شے په جهنم کښے ملامته کړے شوے رټلے شوے (۳۹) ایاپس غوره کړی ئے تاسو رب ستاسو په ځامنو سره اونیولی دی دَ ملائکونه لونړه یقیناً تاسو خامخا وائے وینا لویه (۴۰)

قسم ټپوس دا دے چه په غوږسره ئے څه خبره نه وی اوریدلی اودعوه کوی چه ما اوریدلے ده اودارنګ په سترګوئے څه شے نه وی لیدلے اودعوه کوی چه مالیدلے دے اوپه زړه کښ ئے په یوځیزباندے فکرنه وی کړے اودعوه کوی چه څه په هغے عالم یم نودَ دے دروغ وئیلوټپوس به کیدے شی۔

[۳۷] په دے کښ شپږمه نهی ده دَ ظلم نه چه هغه تکبراو لوئي کول دی اومراد دَ مشِی مَرَحًا نه تکبرکول دی چه دَ هغے اثر په ګرځیدلوکښ ښکاره کیږی، یعنی تکبراصل په زړه کښ دے لیکن اثرئے په ظاهرکښ ښکاره کیدل ډیرقبیح دی اودَ مؤمنانوپه صفت کښ په سورهٔ فرقان (٦٣)کښ مشی هوناً راغلے ده اودَ دے نوره تشریح په سوره لقمان (۱۹)کښ شته دے اوپه مشی مرحاکښ رقص اوګډاکول هم داخل دی اوتفسیرقرطبی کښ دَ هغے ډیره بدی بیان شویده ﴿اِنَّكَ لَنْ تَخْرِقَ الْاَرْضَ﴾حاصل دا دے چه لوئي خودَ دروندوالی اودَقوت دَوجے نه وی یادَغټ والی اودَدنګ والی دَوجے نه وی نوچه دَ اول په وجه زمکه نشے شلولے او دَ دویم په وجه دَ غرونو سرته نشے رسیدلے یعنی انسان کښ دا دواړه صفته نیشته نو تکبرولے کوی۔

[۳۸] ﴿ذٰلِكَ﴾ اشاره ده ما قبل ذکرکړے شوی اوامرو اونواهی ته اوسیِّئُهٗ نه مراد دَ اوامرودَ هغے پریخودل دی اودَ نواهی دَ هغے ارتکاب کول دی اومکروه په شرع کښ عین حرام دی دَ دے وجے اطلاق دَ دے په مکروه تنزیهی باندے مُحدَّث دے۔

[۳۹] دا تائید دَ ماقبل احکامودے یعنی دا احکام وحی دَ اللّٰه تعالیٰ ده اوداحکمت دے اوپه دے کښ تفسیردَحکمت دے کوم چه سورهٔ نحل (۱۲۵)کښ تیرشویدے او﴿لَاتَجْعَلْ﴾کښ اوومه نهی دَظلم دَشرك نه دوباره ذکرکړے ده، اشاره ده چه شرك دَټولوظلمونوبیخ اوجړدے اوهرکله چه په انسان کښ دَ شرك سره دغه ظلمونه هم موجودشی نوهغه ډیرملامته اودَ زجرونولائق وی دَ دے وجے نه دلته ئے ملوم مدحورذکرکړواوپه(۲۲)کښ هرکله چه مخکښ ئے فضیلتونه ذکرکړل اودارنګ دَ مشرك خیال دا دے چه ځما اللّٰه به مالره مدد اوفضیلت راکوی نودَ هغوی په رد کښ ئے مذموم مخذول ذکرکړے وؤ۔

[٤٠] په دے ایت کښ زجردے مشرکین بالملائکة ته چه هغوی وئیل چه ملائك بنات دَ اللّٰه تعالیٰ دی اودا دَملوم اومدحور تفسیردے چه مشرکینولره زجرورکوی اودا مدحوریت دے اودَ دے تفصیل په سورهٔ نحل:(٥٧) سورهٔ صافات:(١٤٩) اوسورهٔ زخرف:(١٦) کښ شته دے۔

وَلَقَدْ صَرَّفْنَا فِیْ هٰذَا الْقُرْاٰنِ لِیَذَّكَّرُوْا ؕ وَمَا یَزِیْدُهُمْ اِلَّا نُفُوْرًا ﴿۴۱﴾ قُلْ لَّوْ كَانَ مَعَهٗۤ اٰلِهَةٌ كَمَا یَقُوْلُوْنَ اِذًا
لَّابْتَغَوْا اِلٰی ذِی الْعَرْشِ سَبِیْلًا ﴿۴۲﴾ سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰی عَمَّا یَقُوْلُوْنَ عُلُوًّا كَبِیْرًا ﴿۴۳﴾ تُسَبِّحُ لَهُ السَّمٰوٰتُ
السَّبْعُ وَالْاَرْضُ وَمَنْ فِیْهِنَّ ؕ وَاِنْ مِّنْ شَیْءٍ اِلَّا یُسَبِّحُ بِحَمْدِهٖ وَلٰكِنْ لَّا تَفْقَهُوْنَ تَسْبِیْحَهُمْ ؕ اِنَّهٗ
كَانَ حَلِیْمًا غَفُوْرًا ﴿۴۴﴾ وَاِذَا قَرَاْتَ الْقُرْاٰنَ جَعَلْنَا بَیْنَكَ وَبَیْنَ الَّذِیْنَ لَا یُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ حِجَابًا مَّسْتُوْرًا ﴿۴۵﴾

او یقیناً (بیان دَتوحید) په رنګا رنګ طریقے سره کړے مونږ پدے قرآن کښے دَ دے دپاره چه نصیحت قبول کړئ اونه زیاتوی دا قرآن دوی لره مګر نفرت (٤١) ته اُوایه که چرے وے دَاللّٰه تعالیٰ سره نور حقدار دَبندګئ لکه چه دوی وائی نودغه وخت خامخا به طلب کړے وے دوی دَعرش خاوند ته یو لار (٤٢) پاك دے اللّٰه تعالیٰ اولوئے دے دَ هغه نسبتونونه چه دوی اللّٰه تعالیٰ ته کوی په لوئیے ډیرے سره (٤٣) پاکی وائی اللّٰه تعالیٰ لره اووه اسمانونه اوزمکه اوهغه څوك چه په دے کښے دی اونیشته هیڅ شے مګر تسبیح وائی سره دَحمد دَهغه نه لیکن تاسو نه پوهیږئ په تسبیح دَ دوی باندے یقیناً اللّٰه تعالیٰ دے صبر ناك بخنه کؤونکے (٤٤)اوکله چه ته لولے قرآن نو پیدا کړو مونږ په مینځ ستا او دَهغه کسانو کښے چه ایمان نه لری په اخرت باندے پرده پټه (٤٥)

[٤١] په دے ایت کښ ترغیب دے قرآن ته اوبیا زجردے دَ قرآن نه نفرت کؤنکوته اوسبب دَنفرت دا دے چه په دے کښ رد دے دَ دوی په شرك اوپه ظلمونوباندے لکه چه مخکښ تیرشول ﴿لِیَذَّكَّرُوْا﴾ دَ دے نه مخکښ لفظ دَ التوحید مراد دے یعنی توحیداودلیلونه اووعظونه قسم قسم بیان کړیدی اوهرکله چه دلته مراد توحید دے نومفعول ئے ذکرنه کړواودَ دے سورة په (٨٩) کښ دلیلونه اووعظونه مراد دی نوهلته ئے من کل مثل لفظ ذکرکړے دے۔

[٤٢] په دے کښ رد دے په شرك فی الالوهیت باندے او﴿اِذًا لَّابْتَغَوْا اِلٰی ذِی الْعَرْشِ سَبِیْلًا﴾ کښ مطلب دا دے چه دَ دوی دَ معبودانو که دَ اللّٰه تعالیٰ سره په الوهیت کښ څه حصه وی نودَ اللّٰه تعالیٰ (چه خاوند دَعرش دے) مطالبه دَخپلے حصے به ئے کولے اوپه دے سره به ضرور جدال پیداکیدے لکه په سورة مؤمنون (٩١) کښ دی، یا دا معنیٰ ده چه دامشرکان دَ خپلومعبودانوپه باره کښ عقیده لری چه دا زمونږشفعاء دی نولازم دا ده چه دا شفعاء اللّٰه تعالیٰ ته لاردَ نزدیکت طلب کوی اوځوك چه طلب کوونکے دَ نزدیکت وی نوهغه خوعاجزوی، نواله نشی کیدے اودلته دویمه توجیه غوره ده په قرینه دَ (٥٧) سره چه په هغے کښ دَصالحینومعبودانو ذکردے او لفظ دَ ﴿كَمَا یَقُوْلُوْنَ﴾ هم په دے دلیل دے۔

[٤٣] په دے کښ نتیجه دَما قبل ایت ده اودعویٰ دَتوحید ده ﴿سُبْحَانَهٗ﴾ کښ اشاره شرك بالملائکه ته او﴿تَعٰلٰی﴾ کښ اشاره ده شرك فی الالوهیت دَ نورعبادوصالحینوته چه دا دواړه قسمونه مخکښ ایاتونو کښ ذکرشویدی۔

[٤٤] په دے کښ علت دے دپاره دَ سبحانه اودعویٰ دَتوحید ده په بله طریقه، اوپه دے سره تسبیح دلالةً مراد ده، یعنی دَ هر څیزحال اوعجزدَ اللّٰه تعالیٰ په توحید باندے دلالت کوی لیکن اے مخاطبینو(مشرکانو) تاسوپه هغے کښ فکرنه کوئے، او یاتسبیح حقیقةً مراد ده اوتسبیح دَهرڅیزدَ هغهٔ دَ شان مناسب وی اوپه

وَّجَعَلْنَا عَلٰى قُلُوْبِهِمْ اَكِنَّةً اَنْ يَّفْقَهُوْهُ وَفِيْٓ اٰذَانِهِمْ وَقْرًا ؕ وَاِذَا ذَكَرْتَ رَبَّكَ فِي الْقُرْاٰنِ وَحْدَهٗ وَلَّوْا عَلٰٓى
اَدْبَارِهِمْ نُفُوْرًا ﴿٤٦﴾ نَحْنُ اَعْلَمُ بِمَا يَسْتَمِعُوْنَ بِهٖٓ اِذْ يَسْتَمِعُوْنَ اِلَيْكَ وَاِذْ هُمْ نَجْوٰٓى اِذْ يَقُوْلُ الظّٰلِمُوْنَ
اِنْ تَتَّبِعُوْنَ اِلَّا رَجُلًا مَّسْحُوْرًا ﴿٤٧﴾ اُنْظُرْ كَيْفَ ضَرَبُوْا لَكَ الْاَمْثَالَ فَضَلُّوْا فَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ سَبِيْلًا ﴿٤٨﴾ وَقَالُوْٓا

او پیدا کړیدی مونږ دَ دوی په زړونو باندے پردے (منع کؤونکے) دَپوهے دَ قرآن نه اوپه غوږونو دَ دوی کښے دروندوالے او کله چه یاد کړے رب خپل په قرآن کښے په یو والی سره اوګرځی دوی پخپلو شاګانو باندے نفرت کؤونکی (٤٦) مونږ ښه پوهیږو په هغه نیت دَدوی چه دوی پرے غوږ ږدی کله چه دوئ تاته غوږ ږدی اوکله چه دوی پټے جرګے کوی کله چه والئی ظالمان خلق تابعداری نه کوئ تاسو مګر دَیوسړی چه جادو پرے کړے شویدے (٤٧) اوګوره چه څه رنګ بیانوی ستا دپاره صفتونه (دَ بدئ) پس دوی ګمراه شول پس دوی طاقت نه لری دَسمے لارے (٤٨) او دوی وائی

دے توجیه سره ﴿مَنْ فِيْهِنَّ وَاِنْ مِّنْ شَيْءٍ اِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهٖ﴾ کښ به تخصیص کیدے شی سیوا دَکافرانو او مشرکانونه۔ اودا دویمه توجیه غوره ده ځکه چه په احادیثوسره تسبیح دَکانړواوتسبیح دَطعام اوتسبیح دَ اوښانواوتسبیح دَاونواودَستنے دَمسجد نبوی ثابت ده۔

[٤٥] په دے ایت کښ زجردے په انکاردَ قرآن سره اومراد دَ حجاب مستورنه حجاب دَضِداودَعناد اودَجهل دے اویا مراد دَ دے نه حجاب حقیقی دے په طریقه دَ خرق عادت سره یعنی دَ دوی په سترګو داسے پردے راشی چه قرآن والانه وینی اوداپه طریقه دَعلی ابصارهم غشاوة سره دے۔ اومستورنه مراد دا دے چه دا حجاب ستاسونه پټ دے اومستورپه معنیٰ دَ ساتردے یعنی پټوونکے۔

[٤٦] په دیکښ دَ زړونواودَغوږونو افت ئے دَ دوی دپاره ذکرکړولکه ختم اللّٰه علی قلوبهم وعلی سمعهم وعلی ابصارهم غشاوة سوره بقره (٧) اودارنګ سورة انعام (٢٥)کښ ﴿وَقْرًا﴾ دَ دے نه مرادکونړوالے دے لکه دَصُمٌّ اطلاق چه شوے دے یامراد دَ دے نه شرکی قصے اوخرافات دی چه دَ هغے نه دَ دوی غوږونه ډك دی نودَتوحید اوحق اوازپکښ نه ځائیږی اویا زجر دے په انکاردَتوحید سره، یعنی قرآن ته هسے ناست وی لیکن هرکله چه په قرآن کښ دَ توحید مسئله راشی چه صرف دَاللّٰه تعالیٰ نه مدد غواړئ اوصرف دَ هغه بندګی کوئے اوبل څوك ورسره شریك مه جوړوئے نودوی دَ دے نه نفرت شروع کړی اودارنګ په سورة صافات:(٣٥) اوص:(٥) او زمر:(٤٥) اوحم مؤمن:(١٢)کښ دی اودَ ﴿وَحْدَهٗ﴾ نه لفظ دَتوحید اخستلے شویدے نوتوحید شرعی لفظ دے۔

[٤٧] په دے ایت کښ زجردے په انکاردَ رسول سره اوهغه ته ئے مسحوراُوئیل اومسحورپه معنیٰ دَ دهوکه کړے شوی یاپه معنیٰ دَمحتاج دے خوراك اوڅښاك ته، یاپه معنیٰ دَ دهوکه کړے شویدے په داسے طریقے سره چه عقل ئے بربادشی۔ اودا فتویٰ دَ دوی په مکه کښ وه اوپه دغه وخت کښ په نبی ﷺ جادونه ووکړے شوے دوی دروغ وئیل۔ اویا روستوپه مدینه کښ په هغه باندے جادوکړے شوے وولکه چه حدیث صحیح کښ ثابت دی نودَ دے په مینځ کښ هیڅ تعارض نیشته اودَ دے پوره تفصیل په تفسیردَسورة فلق کښ به راشی انشاء اللّٰه تعالیٰ ﴿اِذْ يَسْتَمِعُوْنَ اِلَيْكَ﴾ یعنی اول دوی قرآن ته غوږ کیدی لیکن په نیت دَاعتراض کولو

ءَاِذَا كُنَّا عِظَامًا وَّرُفَاتًا ءَاِنَّا لَمَبْعُوْثُوْنَ خَلْقًا جَدِيْدًا ﴿۴۹﴾ قُلْ كُوْنُوْا حِجَارَةً اَوْ حَدِيْدًا ﴿۵۰﴾ اَوْ خَلْقًا
مِّمَّا يَكْبُرُ فِيْ صُدُوْرِكُمْ ۚ فَسَيَقُوْلُوْنَ مَنْ يُّعِيْدُنَا ۭ قُلِ الَّذِيْ فَطَرَكُمْ اَوَّلَ مَرَّةٍ ۚ فَسَيُنْغِضُوْنَ اِلَيْكَ
رُءُوْسَهُمْ وَيَقُوْلُوْنَ مَتٰى هُوَ ۭ قُلْ عَسٰٓى اَنْ يَّكُوْنَ قَرِيْبًا ﴿۵۱﴾ يَوْمَ يَدْعُوْكُمْ فَتَسْتَجِيْبُوْنَ بِحَمْدِهٖ وَتَظُنُّوْنَ
اِنْ لَّبِثْتُمْ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۵۲﴾ وَقُلْ لِّعِبَادِيْ يَقُوْلُوا الَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ ۭ اِنَّ الشَّيْطٰنَ يَنْزَغُ بَيْنَهُمْ ۭ اِنَّ الشَّيْطٰنَ

ایا کله چه شو مونږ هډوکی او ذرے ذرے ایا مونږبه ژوندی کړے شو په پیدائش نوی سره (۴۹) ته ورته اُوایه تاسو شئ ګټے یا او سپنه (۵۰) اویا بل مخلوق دَ هغے نه چه لوئے وی ستاسو په سینو کښے پس خامخا دوی به وائی څوك به مونږ دوباره پیدا کړی ته اُوایه هغه ذات چه پیدا کړی ئے تاسو اول ځل پس خوزوی به تاسوته سرونه خپل او وائی به کله به وی دا ته اُوایه کیدیشی چه ډیر نزدے وی (۵۱) په کومه ورځ چه اواز به درکړی تاسوته نو تاسو به حکم اومنئ سره دَحمد وئیلونه او ګمان به کوئ تاسو چه نه وئے حصار شوی تاسو مګر لږه موده (۵۲) اُوته اوایه ځما بندګانوته وائی دِ دوی هغه خبره چه خائسته ده یقیناً شیطان فساد اچوی په مینځ دَ دوی کښے یقیناً شیطان

سره نوییا کورنئی کښ جرګه اوکړی چه دے نبی باندے څه رنګ فتویٰ اوکړو۔

[۴۸] دا هم دَ مخکښ ایت په حکم کښ داخل دے یعنی زجردے په انکار دَ رسول سره او دا دلیل دے چه طعنونه کول په رسول باندے سبب دَ داسے ګمراهئے دے چه بیا هدایت نشی موندلے ﴿الْاَمْثَالَ﴾ مراد دَ دے ناکاره صفتونه دی لکه شاعر، ساحر، کاهن، مفتری وغیره اوداسے په سورة فرقان (۹،۸) کښ هم دی۔

[۴۹] په دے ایت کښ زجردے په انکارد بعث بعدالموت اوداسے په سورة یٰس (۷۷) اوسورة صافات (۱۶) کښ هم دی۔

[۵۱،۵۰] په دے ایتونوکښ جواب دے منکرینودَ بعث ته حاصل دَجواب دا دے چه دَخاورونه دوباره جوړول خو اسان کاردے بلکه که تاسوګټے شئے یا اوسپنه شئے یا دَ دینه هم سخت شئے لکه فولاد یاآسمانونه اوزمکه، نوهم اللّٰه تعالیٰ تاسو دوباره پیداکولے شی۔ لفظ﴿كُوْنُوْا﴾ په معنیٰ دَ شرط دے یعنی لوکنتم حجارة الخ۔ اودارنګ دا امکان لری چه انسان کله چه خاورے شی نوکله دَ دے خاورے نه ګټے اومالګه جوړیږی اوکله دَ اوسپنے په کان کښ دَ خاورے نه اوسپنه جوړیږی او کله ترینه فولاد وغیره هم جوړیږی۔ بیا دَ دوی دویم اعتراض ئے ذکرکړوپه باره دَاعاده کوونکی کښ اودَ هغے جواب دے په دے قول سره ﴿قُلِ الَّذِيْ فَطَرَكُمْ اَوَّلَ مَرَّةٍ﴾ بیا دَ دوی دریمه شبه پطوردَاستهزاء سره ذکرشوه چه سرخوزوی په طوردَ استهزاء اوتپوس کوی په باره دَ وخت دَبعث کښ اوانغاض په عرف دَعرب کښ داسے وی چه سراوچت کړی اوبیا ئے ښکته کړی اوداعمل باربارکوی یعنی سربښکته اوبره کوی او ﴿عَسٰٓى﴾ دَپاره دَتاکید دَقربت دے ځکه چه عسیٰ دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه دَپاره دَیقین وی۔

[۵۲] په دے کښ بیان دَحال دَبعث دے ﴿يَدْعُوْكُمْ﴾ نه مراد شپیلئ وهل دی دَپاره دَبعث یا مراد دَ دینه اوازدے دَپاره دَ حشرلکه په دے سورة (۷۱) کښ به راځی اودارنګ په سورة روم (۲۵) کښ راځی ﴿فَتَسْتَجِيْبُوْنَ بِحَمْدِهٖ﴾ یومعنیٰ دا ده چه دَ دغه اوازبه استجابت اوکړئے (نوراپورته به شئے) اودَ اللّٰه تعالیٰ

كَانَ لِلْاِنْسَانِ عَدُوًّا مُّبِيْنًا ﴿٥٣﴾ رَبُّكُمْ اَعْلَمُ بِكُمْ ؕ اِنْ يَّشَاْ يَرْحَمْكُمْ اَوْ اِنْ يَّشَاْ يُعَذِّبْكُمْ ؕ وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ
عَلَيْهِمْ وَكِيْلًا ﴿٥٤﴾ وَرَبُّكَ اَعْلَمُ بِمَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَلَقَدْ فَضَّلْنَا بَعْضَ النَّبِيّٖنَ عَلٰى بَعْضٍ
وَّاٰتَيْنَا دَاوٗدَ زَبُوْرًا ﴿٥٥﴾ قُلِ ادْعُوا الَّذِيْنَ زَعَمْتُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ فَلَا يَمْلِكُوْنَ كَشْفَ الضُّرِّ عَنْكُمْ وَلَا تَحْوِيْلًا ﴿٥٦﴾

دے دَ انسان دپاره دشمن ښکاره (۵۳) رب ستاسو ښه پوهه دے ستاسو په حال باندے که اوغواړی نورحم به اوکړی په تاسو باندے اوکه اوغواړی نو عذاب به درکړی تاسوته اونه ئے لیږلے مونږ ته په دوئ باندے ذمه وار (۵۴) او رب ستا ښه پوهه دے په حال دَهغه چاچه په آسمانونو او زمکه کښے دی او یقیناً غوروالے ورکړیدے مونږ بعض پیغمبرانو ته په بعضو باندے او ورکړے ۋو مونږ داؤد(علیہ السلام) ته زبور کتاب (۵۵) ته اُوایه راوبلئ هغه کسان چه ګمان پرے کوئ تاسو مددګاران سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه پس هغوی اختیار نه لری دَ لرے کولو دَ تکلیف ستاسونه او نه دَ اسانولو (۵۶)

حمد به وایئے اواقراربه کوئے چه اللّٰه تعالیٰ دَتسبیح اودَ حمدلائق دے، دویمه معنیٰ دا ده چه تاسوبه استجابت اوکړئے په سبب دَ امردَ اللّٰه تعالیٰ سره یعنی حمدپه معنیٰ دَامرسره دے ﴿اِلَّا قَلِيْلًا﴾ لکه په سورة نازعات (٤٦) اوسورة طٰهٰ (١٠٣، ١٠٤) اوسورة مؤمنون (١١٤) کښ دی۔

[۵۳] په دے ایت کښ بیان دَ ادب دے دَپاره دَ دعوت کؤنکوروستودَبیان دَمرکښئے دَمنکرینونه اومراد دَ﴿لِعِبَادِیْ﴾ نه مؤمنان دی یعنی مؤمنانوته اُوایه چه کله مشرکانوته دعوت دَتوحید ورکوی نوپه احسن طریقے سره دِ بیان کوی دَ دے دَپاره چه شیطان په مینځ کښ فساد پیدا نکړی، دویم تفسیردا دے چه په دے ایت کښ دعوت دَتوحید دے مشرکانوته پس دَ ذکر کولودَخباثاتودَهغوی نه اوعِبَادِی نه مراد مشرکان اوکافران دی او﴿الَّتِیْ هِیَ اَحْسَنُ﴾ نه مرادکلمه دَتوحید ده اونور شرعی عقیدے او اقوال دی اودا عطف دے په دے قل باندے په (۵۱) کښ۔

[۵۴] په دے ایت کښ خطاب دے مشرکینوته پس دَ دعوت دَ هغوی نه توحید ته اودلیل عقلی علمی دے په توحید باندے یعنی هدایت دَ اللّٰه تعالیٰ په اختیارکښ دے یا به رحم اوکړی په تاسوباندے په توفیق دَایمان، یابه عذاب درکړی کله چه مړه کړی تاسوپه شرك باندے اورسول دَ دوی ذمه دارنه دے نوپه هغه باندے اعتراض نه راځی یا داخطاب دے مؤمنانوته پس دَ طریقے دَ دعوت نه یعنی که دعوت تاسو جاری اوساتونواللّٰه تعالیٰ به په تاسو رحم اوکړی اودَکافرانونه به موبچ اوساتی اوکه تاسو دعوت ترك کړونواللّٰه تعالیٰ به تاسوله عذاب درکړی او رسول تاسو نشی بچ کولے۔

[۵۵] هرکله چه مخکښ بیان کړے شوهدایت اوعدم هدایت نوپه دے ایت کښ اشاره ده اختلاف دَمرتبوته چه اللّٰه تعالیٰ ستاسودَ طاعت اومعصیت په مرتبوباندے عالم دے اودا هم دلیل عقلی علمی دے دَپاره دَ توحید بیائیے اوفرمائیل چه اختلاف دَ مرتبوپه انبیاؤ علیهم السلام کښ شته لکه سورة بقره (۲۵۳) کښ دی۔ بیا ذکرَ دَ زبوردَ داؤدعلیہ السلام کښ اشاره ده چه فضیلت دَ اللّٰه تعالیٰ په نیزپه وحی اوکتاب سره دے په بادشاهئے دَ دنیا سره نه دے۔

فائده: ﴿زَبُوْرًا﴾ دَ زَبَرنه دے زجراووعظ ته وائی دَ زبور وجه تسمیه دا ده چه په هغے کښ احکام دَحل

اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ يَبْتَغُوْنَ اِلٰى رَبِّهِمُ الْوَسِيْلَةَ اَيُّهُمْ اَقْرَبُ وَيَرْجُوْنَ رَحْمَتَهٗ وَيَخَافُوْنَ عَذَابَهٗ ؕ اِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ كَانَ مَحْذُوْرًا ﴿۵۷﴾ وَاِنْ مِّنْ قَرْيَةٍ اِلَّا نَحْنُ مُهْلِكُوْهَا قَبْلَ يَوْمِ الْقِيٰمَةِ اَوْ مُعَذِّبُوْهَا عَذَابًا شَدِيْدًا ؕ كَانَ ذٰلِكَ فِى الْكِتٰبِ مَسْطُوْرًا ﴿۵۸﴾ وَمَا مَنَعَنَآ اَنْ نُّرْسِلَ بِالْاٰيٰتِ اِلَّآ اَنْ كَذَّبَ بِهَا الْاَوَّلُوْنَ ؕ

هغه کسان چه دوی ورته رامدد شه وائی غواړی هغوی خپل رب ته نزدے والے چه کوم یو دَ دوی نه زیات نزدے وی او امید لری دوئ دَ رحمت دَهغه او ویره کوی دَعذاب دَهغه نه یقیناً عذاب دَ رب ستانه یره کیدے شی (۵۷) او نیشته هیڅ کلے مگر مونږ هلاکؤونکی دَهغے یو مخکے دَ ورځ دَ قیامت نه یا عذاب ورکؤو هغے ته عذاب سخت ده دافیصله په لوح محفوظ کښے لیکلے شوے (۵۸) اونه دے منع کړے مونږ لره دَلیږلو دَمعجزاتو نه (کوم چه دوی غواړی) مگر داچه انکار کړے ؤو دَ دے خبرے زړو خلقو

اوحرمت نه وو بلکه اذکاراوتسبیحات اومواعظ وغیره وو۔

[۵۶] دَ دے ایت تعلق دے دَ ایت (۵۳) سره یعنی توحید اومنټے ځکه چه شرك باطل دے اوپه دے کښ هم طریقه دَ دعوت ذکر کوی۔ بیا په دے ایت کښ رد دے په شرك فی الدعاء باندے، اوبیا رد دے په شرك فی التصرف باندے، او روستنے علت دے دَپاره دَ مخکنی او په دے ایت کښ رد دے په مشرکین بالجن اوبالعباد الصالحین باندے حدیث دَبخاری کښ وارد دی چه دا ایات نازل شویدی په باره دَ هغه خلقوکښ چه دَ پیریانوعبادت باندے کلك وؤ۔ اوابن کثیر اونوروډیرو مفسرینودَ دے ایت دَ لاندے عابدین دَ ملائکو اودَعزیرعلیہ السلام اودَعیسیٰ علیهم السلام هم داخل کړی دی نودا رنګ عابدان دَ اولیاؤ که دَ ژوندو وی او که دَ مړو وی نوهغوی پکښ هم داخل دی۔ کشف اوتحویل کښ دا فرق دے چه کشف لرے کول دَ ضرر دی دَبیخ نه او تحویل بدلول دَ یوحالت دی بل حالت ته یعنی کمول دَ تکلیف۔

[۵۷] تیرشوی ایت کښ عجز ئیے بیان کړودَمعبودانوباطلو په نفي دَ تصرف سره نو په دے ایت کښ عجز دَ هغوی بیانوی دَعبودیت په دریواجزاؤسره، یومحبت دے دَ اللّٰه تعالیٰ سره چه دَ هغے دَ وجے نه نزدیکت دَ اللّٰه تعالیٰ طلب کوی اویل امید ساتل دی دَ اللّٰه تعالیٰ دَ رحم اودریم خوف دے دَعذاب دَ اللّٰه تعالیٰ نه او(ایهم اقرب) تفسیر دے دَ الوسیلة یعنی وسیلة په معنیٰ دَ نزدیکت ده دارنګ په سورة مائده (۳۵) کښ تیرشویدی ﴿مَحْذُوْرًا﴾ داسے په سورة معارج (۲۸) کښ دی۔

[۵۸] په دے ایت کښ تخویف دنیوی دے اومطلب ئیے دا دے چه په کلودَ مشرکانوباندے هلاکت اوعذاب راځی لیکن دَ هغوی معبودان باطله هغوی لره نشی بچ کولے اودارنګ مضمون په سورة هود (۱۰۱) اوسورة احقاف (۲۸،۲۷) کښ هم دے ﴿قَرْيَةٍ﴾ نه مرادنافرمان اومشرکان دی په قرینه دَسورة طلاق (۸) سره او ﴿عَذَابًا شَدِيْدًا﴾ نه مراد قتلونه فسادونه او قحطونه وغیره دی ﴿الْكِتٰبِ﴾ نه مراد کتاب تقدیریعنی لوح محفوظ دے اودا دلیل دے په اثبات دَ تقدیرلیکلے شوی باندے۔

وَاٰتَيْنَا ثَمُوْدَ النَّاقَةَ مُبْصِرَةً فَظَلَمُوْا بِهَا ۭ وَمَا نُرْسِلُ بِالْاٰيٰتِ اِلَّا تَخْوِيْفًا ۝ وَاِذْ قُلْنَا لَكَ اِنَّ رَبَّكَ اَحَاطَ بِالنَّاسِ ۭ وَمَا جَعَلْنَا الرُّءْيَا الَّتِيْٓ اَرَيْنٰكَ اِلَّا فِتْنَةً لِّلنَّاسِ وَالشَّجَرَةَ الْمَلْعُوْنَةَ فِي الْقُرْاٰنِ ۭ وَنُخَوِّفُهُمْ ۙ فَمَا يَزِيْدُهُمْ اِلَّا طُغْيَانًا كَبِيْرًا ۝ وَاِذْ قُلْنَا لِلْمَلٰۗىِٕكَةِ اسْجُدُوْا لِاٰدَمَ فَسَجَدُوْٓا اِلَّآ اِبْلِيْسَ ۭ قَالَ ءَاَسْجُدُ

او ورکړے وه مونږ ثمودیانو ته اوښه د ښکاره کولو د حق دپاره پس هغوی عناداً انکار اوکړو اونه لیږو مونږ معجزاتو لره مګر د یرولو دپاره (۵۹) اوکله چه مونږ اُوئیل تاته یقیناً ستا رب راګیر کړیدی خلقو لره اونه دی ګرځولی مونږ هغه لیدل چه خودلی دی مونږ تاته مګر امتحان دپاره د خلقو او وَنه چه بدئے وئیلے شوی دی په قرآن کښے او ویره ورکؤو دوی لره پس نه زیاتوی دوی لره مګر سرکشی لویه (٦٠) اوکله چه اُوئیل مونږ ملائکوته سجده اوکړئ ادم(علیه السلام) ته نو سجده اوکړه ټولو سیوا د ابلیس نه اوئیل هغه ایا سجده اوکړم

[۵۹] د دے ایت نه دویمه حصه ده تر(۷۵) آیت پورے په دے حصه کښ دویم سبب د عذاب ذکر کوی چه هغه انکار کول دی د ایاتو د اللّٰه نه اود هغے مثال ئیے پیش کړے دے په واقعه د ثمودیانو سره په (۵۹) کښ اوپه واقعه د اسراء اوپه ذکر د شجرد زقوم په آیت (٦٠) کښ اوپه واقعه د ابلیس چه انکار ئیے کړے وود آیت د اللّٰه تعالیٰ نه چه آدم علیه السلام او تعظیم د هغه وو د آیت (٦١) نه تر(٦٥) پورے، بیا دلیل عقلی دے په(٦٦) کښ بیا زجردے مشرك ته په (٦٧) کښ بیا تخویف دنیوی دے په (٦٨) او (٦٩) کښ، بیا ترغیب دے په ذکر د نعمتونو سره په (۷۰) آیت کښ، بیا تخویف اخروی دے په (۷۲،۷۱) کښ۔ بیا تحذیردے د مداهنت نه آیت (۷۳، ۷٤، ۷۵) کښ، په دے (۵۹) آیت کښ جواب د شبهے دے شبه دا ده هرکله چه رد اوشوپه مشرکانو نوهغوی طلب اوکړو د پیغمبرنه د معجزاتو نوسوال راغے چه دا معجزات دوی ته ولے نه رالیږلے کیږی؟ د جواب حاصل دا دے چه هغه معجزات چه دوی طلب کړی دی، مانع د هغے نه دا دے چه که هغه را اولیږلے شی اودوی ئیے انکار اوکړی نوعذاب به پرے راشی د مخکنو قومونوپه شان چه یومثال د هغے ثمودیان دی چه هغوی طلب د معجزے کړے وونوناقه پیداشوه اودوی د هغے انکار اوکړو نوعذاب پرے راغے نوپه دے آیت کښ اشاره ده چه انکار د معجزاتو سبب د عذاب دے۔ ﴿وَمَا نُرْسِلُ بِالْاٰيٰتِ اِلَّا تَخْوِيْفًا﴾ مراد د دے نه هغه آیات دی چه خلق د هغے طلب کوی نود هغے په رالیږلو کښ تخویف بالعذاب وی کله چه اونه منلے شی نوپه منکرینوباندے ضرور عذاب راځی دویمه معنیٰ داده چه ایت نه مراد ټول معجزات دی چه هغه د پاره د انکار کوونکی تخویف وی اود پاره د مؤمنانورحمت وی ﴿فَظَلَمُوْا بِهَا﴾ مراد د ظلم نه انکار کول عناداً اوقتل کول د اوښے دی۔

[٦٠] د دے ایت په اوله جمله کښ تیزی ورکول دی پیغمبرته په تبلیغ باندے چه اللّٰه تعالیٰ به ستا حفاظت کوی اوته تبلیغ کوه مراد د احاطے نه احاطه د قدرت اود علم د اللّٰه تعالیٰ ده په ټول مخلوق باندے اوحفاظت د نبی پکښ داخل دے۔ اوبیائے دوه ایاته پیش کړی دی یوواقعه د معراج اودویم ذکر د اونے په جهنم کښ د دے دواړوپه انکارسره یره د عذاب ده ﴿الرُّءْيَا﴾ صحیح قول دا دے چه مراد د دینه لیدل دی په ستر کوسره په حالت د بیدارئے کښ په شپه د معراج کښ حکه چه رویا مصدر دے په معنیٰ د رویت سره

لِمَنْ خَلَقْتَ طِيْنًا ﴿٦١﴾ قَالَ اَرَءَيْتَكَ هٰذَا الَّذِيْ كَرَّمْتَ عَلَيَّ ۖ لَئِنْ اَخَّرْتَنِ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ لَاَحْتَنِكَنَّ
ذُرِّيَّتَهٗٓ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿٦٢﴾ قَالَ اذْهَبْ فَمَنْ تَبِعَكَ مِنْهُمْ فَاِنَّ جَهَنَّمَ جَزَآؤُكُمْ جَزَآءً مَّوْفُوْرًا ﴿٦٣﴾ وَاسْتَفْزِزْ مَنِ
اسْتَطَعْتَ مِنْهُمْ بِصَوْتِكَ وَاَجْلِبْ عَلَيْهِمْ بِخَيْلِكَ وَرَجِلِكَ وَشَارِكْهُمْ فِي الْاَمْوَالِ وَالْاَوْلَادِ وَعِدْهُمْ ۭ وَمَا

هغه چاته چه تاپیدا کړیدے دَ ختے نه (٦١) هغه اُوئیل خبر راکړه چه دا هغه سړے دے چه تاعزت ورکړے دے دهٔ ته په ماباندے که چرے تاماله مهلت راکړو تر ورځ دَ قیامت پورے نو خا مخا په خپل قابو کښے به راولم اولاد دَ دهٔ سیوا دَلږو کسانونه (٦٢) اُوئیل اللّٰه تعالیٰ څه پس چاچه ستا تابعداری اوکړه دَ دوی نه پس یقیناً جهنم سزا ستاسو ده سزا پوره (٦٣) او اوخویه وه هغه څوك چه ستا وس پرے برشی دَ دوی نه په اواز خپل سره او راوله په دوی باندے په سوَرو خپلو او پیاده خپلو سره او برخه اونیسه دَ دوی نه په مالونو کښے او اولاد کښے او وعدے کوه دَ دوی سره او

دے اودا قول امام بخاری دَ ابن عباس﵄ نه نقل کړیدے اونه دی مراد دَ دینه لیدل دَ خوب څکه که دَ خوب لیدل وی نوپه هغے سره امتحان نه کیده څکه چه دَخوب دَ لیدلونه هیڅوك انکارنه کوی۔ ﴿وَالشَّجَرَةَ الْمَلْعُوْنَةَ﴾ یعنی هرکله چه اللّٰه تعالیٰ خبرورکړوپه سورة صافات کښ دَ ایات (٦٢) نه تر (٦٦) پورے چه وَنه ده په جهنم کښ نودا دَ دوی دَپاره سبب دَ امتحان شواومنکرینواعتراض اوکړوچه وَنه په اورکښ څه رنګ راتهٔ کیدیشی۔ المَلعُونَة، یعنی داسے وَنه چه لعنت کړے شویدے دَهغے په خورونکو باندے په قرآن کښ یا دا معنیٰ ده چه بدصفات بیان کړے شویدی دَ دغے ونے په قرآن کښ لکه سورة دُخان ایت (٤٣) نه ایت (٤٦) پورے دارنګ سورة صافات کښ اوچاچه دَ دے شجرے تفسیرکړے دے په بنوامیه سره نو دا تحریف دے څکه چه په قرآن کښ ذکرَ بنی امیه اوپه هغوی باندے لعنت نیشته۔ اونسبت کول دَ دے ابن عباس﵄ ته غلط دی۔

[٦١] دا واقعه دَ آدم﵇ اودَ ابلیس ده اومقصدپه دے واقعه کښ دا دے چه آدم﵇ ایت اللّٰه وواوابلیس دَهغه دَتعظیم نه انکاراوکړواودَهغه توهین ئے اوکړوپه دے جمله کښ﴿ءَ اَسْجُدُ﴾او﴿اَرَءَيْتَكَ﴾ داسبب اوګرځیدهٔ دَپاره دَعذاب دَ ابلیس اودَ دے وجے نه دائیے عطف کړے دے په ما قبل باندے۔

[٦٢] دے ایت کښ اشاره ده چه ابلیس حسد اوکړودَوجے دَعزت دَ آدم﵇ نه چه اللّٰه تعالیٰ ورکړے وؤ﴿لَاَحْتَنِكَنَّ﴾ دا دَحنك نه دے اوحنك په معنیٰ دَبیخکندئے راځی نومعنیٰ داشوه چه څه به دَ دهٔ دَاولاد ویخ اوباسم اوویخ ویستل دا دی چه په شرك اوپه کفرکښ ئے اخته کړی اودویم معنیٰ دَحنك دَاس په خله کښ واګے اچول وی چه مقصد دَ هغے نه منع کول وی نومعنیٰ دا شوه چه منع به کړم څه اولاد دَ دهٔ دَ توحید نه۔

[٦٣] په دے آیت کښ تخویف اخروی دے ابلیس اوتابعدارودَ هغه ته ﴿اِذْهَبْ﴾کښ اشاره ده دَهغه مهلت ورکولوته لکه په سورة اعراف (١٥) اوسورة حجر(٣٧) اوسورة ص(٨٠) کښ دی ﴿مَوْفُوْرًا﴾ په معنیٰ دَ وافرسره یاپه معنیٰ دَاسم مفعول سره یعنی پوره کړے شویے دے څه کمے په کښ نه وی اوداسے سزا دَکافراومشرك وی څکه دَمؤمن په سزاکښ دَعفو اومغفرت دَ وجے نه کمے کیدے شی اوداسے په سورة اعراف (١٨) اوسوة ص (٨٥) کښ دی۔

يَعِدُهُمُ الشَّيْطٰنُ اِلَّا غُرُوْرًا ﴿٦٤﴾ اِنَّ عِبَادِيْ لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطٰنٌ ۭ وَكَفٰى بِرَبِّكَ وَكِيْلًا ﴿٦٥﴾ رَبُّكُمُ الَّذِيْ يُزْجِيْ
لَكُمُ الْفُلْكَ فِي الْبَحْرِ لِتَبْتَغُوْا مِنْ فَضْلِهٖ ۭ اِنَّهٗ كَانَ بِكُمْ رَحِيْمًا ﴿٦٦﴾ وَاِذَا مَسَّكُمُ الضُّرُّ فِي الْبَحْرِ ضَلَّ مَنْ
تَدْعُوْنَ اِلَّآ اِيَّاهُ ۚ فَلَمَّا نَجّٰىكُمْ اِلَى الْبَرِّ اَعْرَضْتُمْ ۭ وَكَانَ الْاِنْسَانُ كَفُوْرًا ﴿٦٧﴾ اَفَاَمِنْتُمْ اَنْ يَّخْسِفَ بِكُمْ

وعده نه کوی دَ دوی سره شیطان مګر دَ دهوکے (٦٤) یقیناً ځما بندګان نیشته تاله په دوی باندے وس دَګمراه کولو او پوره دے ستا رب ذمه وار (٦٥) رب ستاسو داسے ذات دے چه چَلَوی ستاسو دپاره کشتئ په دریاب کښے دپاره دَ دے چه طلب کړئ فضل دَ اللّٰه تعالیٰ یقیناً اللّٰه تعالیٰ دے په تاسو باندے رحم کؤونکے (٦٦) او کله چه اورسی تاسوته تکلیف په دریاب کښے نو هیر شی ستاسونه هغه ځوك چه تاسو ئے په حاجتونو کښے بلئ سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه پس هرکله چه بچ کړی تاسو اوچے ته تاسو مخ ګرځوئ (دَتوحید نه) او دے انسان ناشکره (٦٧) ایا یے غمه ئے تاسو چه اللّٰه تعالیٰ به بنکته بوځی تاسو

[٦٤] په دے آیت کښ دَګمراه کولودَابلیس خلقولره څلورطریقے ذکرشویدی، اوله طریقه، دهوکه ورکول خلقوته په اواز دَابلیس سره اودَ اوازنه مراد هرهغه داعی دے چه دعوت کوی هغه معصیت دَ اللّٰه تعالیٰ ته اوپه دیکښ دعوت دَشرك و کفراو بدعت اوغنا وغیره داخل دی دا ابن جریرغوره کړے دے اودویمه طریقه ﴿وَاَجْلِبْ عَلَيْهِمْ بِخَيْلِكَ وَرَجِلِكَ﴾ مراد دَ دے دا دے چه دَ دوی دَګمراه کولودَپاره خپل ټول کیدونه استعمال کړه اوداخل دے په دیکښ هرهغه څوك چه په سورلئے باندے ګرځی یا پیا ده ګرځی په معصیت دَ اللّٰه تعالیٰ کښ دا دَ ابن عباسؓ اومجاهد نه نقل دے۔ اودریمه طریقه ﴿وَشَارِكْهُمْ فِي الْاَمْوَالِ وَالْاَوْلَادِ﴾ اومراد دَشراکت نه په مالونوکښ نذرکول دَمال دَپاره دَغیراللّٰه دارنګ مال خرچ کول په شرك اوبدعت او رواجونوکښ اوتحریم دَغیر اللّٰه اوپه حرامه طریقه کسب کول هم پدے کښ داخل دے اودَشراکت فی الاولاد نه نسبت کول دَ اولاد دی غیراللّٰه ته چه دا اولاد فلانکی ولی رابخلے دے اونوم کیښودل دَهغے نبی بخش عبدالحارث اوعبدالعزیٰ اوعبد الرسول بنده علی اوپیربخش وغیره اودارنګ اولاد ته طریقے دَکفر او شرك خودل اومشابه کول دَهغوی دَکافرانوسره په لباس اوپه شکل کښ۔اوځلورمه طریقه﴿وَعِدْهُمْ﴾مراد دَ دینه وعدے کول دی دَثواب اودَکامیابئے په شرك اوپه بدعت کولوکښ۔

[٦٥] په دے کښ حفاظت دَبعض بندګانودَ ابلیس نه ذکردے اوپه عِبَادی کښ اضافت دَتخصیص دَپاره دے چه هغوی ته ئے په نورو ایاتونو کښ مخلصین وئیلی دی ﴿وَكَفٰى بِرَبِّكَ وَكِيْلًا﴾ په دے کښ اشاره ده چه دابندګان په عصمت کښ اللّٰه تعالیٰ ته محتاج دی ﴿سُلْطٰنٌ﴾ مراد دَ دے نه غلبه دَګمراه کولویا دلیل مراد دے۔

[٦٦] پدیکښ دلیل عقلی ذکردے اوعام انعام ئے ذکرکړے روسته دَخاص انعام نه یعنی دَشیطان نه بچ کول خاص انعام دے په خاص بندګانوباندے اودَ دریاب دَ غرقیدلونه بچ کول عام انعام دے مشرکانوته هم شامل دے۔

[٦٧] په دے ایت کښ زجردے مشرکینوته په ضعف دَطریقه دَهغوی چه په سختئے کښ صرف اللّٰه تعالیٰ رابلی اوبیا ورسره شریك جوړوی داسے په سورة یونس (٢٢) اوسورة عنکبوت (٦٥) او سورة لقمان (٣٢) کښ هم دی۔

جَانِبَ الْبَرِّ اَوْ يُرْسِلَ عَلَيْكُمْ حَاصِبًا ثُمَّ لَا تَجِدُوْا لَكُمْ وَكِيْلًا ﴿٦٨﴾ اَمْ اَمِنْتُمْ اَنْ يُّعِيْدَكُمْ فِيْهِ تَارَةً اُخْرٰى
فَيُرْسِلَ عَلَيْكُمْ قَاصِفًا مِّنَ الرِّيْحِ فَيُغْرِقَكُمْ بِمَا كَفَرْتُمْ ثُمَّ لَا تَجِدُوْا لَكُمْ عَلَيْنَا بِهٖ تَبِيْعًا ﴿٦٩﴾ وَلَقَدْ كَرَّمْنَا
بَنِيْٓ اٰدَمَ وَحَمَلْنٰهُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَرَزَقْنٰهُمْ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ وَفَضَّلْنٰهُمْ عَلٰى كَثِيْرٍ مِّمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيْلًا ﴿٧٠﴾
يَوْمَ نَدْعُوْا كُلَّ اُنَاسٍۢ بِاِمَامِهِمْ ۚ فَمَنْ اُوْتِيَ كِتٰبَهٗ بِيَمِيْنِهٖ فَاُولٰٓئِكَ يَقْرَءُوْنَ كِتٰبَهُمْ وَلَا يُظْلَمُوْنَ

په طرف دَ وچے زمکے کښے یا به راالولیږی په تاسو باندے باران دَکانړو بیا به اونه مومئ تاسو ځان لره ذمه دار (٦٨) ایا بے غمه ئے تاسو چه واپس به بوځی تاسو په دریاب کښے بل ځل پس را اوبه لیږی په تاسو باندے تیزه ماتوونکے سیلئ پس غرق به کړی تاسوپسبب دَ انکار ستاسودَ توحید نه بیابه اونه مومئ تاسو ځان لره په مونږ باندے دَ دے نه ځوك تپوس کؤونکے (٦٩) او یقیناً عزت ورکړیدے مونږ اولاد دَ آدم(علیه السلام) ته او سواره کړیدی مونږ دوی لره په اوچه او دریاب کښے او روزی هم ورکړیده دوی ته دَ پاك رزقونونه اوغوره والے مودوی نه ورکړیدے په ډیرو دَ هغه چانه چه مونږ پیدا کړی دی ډیر غوره والے (٧٠) په کومه ورځ چه اوازبه ورکړو هرچاته په نوم دَ پیشوا دَ دوی پس هغه ځوك چه ورکړے شی هغه ته کتاب دَ هغه په ځی لاس کښے پس دغه خلق به لولی عملنامے خپلے اوظلم به نه کیږی په دوی باندے

[٦٨] په دے ایت کښ تخویف دے هغه مشرك ته چه مخکښ ایت کښ دَ هغه حال بیان شو۔ او مراد دا دے چه دریاب نه اګرچه دے بچ شو لیکن دَ اوچے دَ عذاب نه نه شی بچ کیدے ﴿اَنْ يَّخْسِفَ﴾ پشان دَ قارون ﴿اَوْيُرْسِلَ﴾ پشان دَ قوم لوط او داسے په سورة ملك (١٦ ، ١٧) کښ هم دی۔

[٦٩] داهم تخویف دے دَ مخکښ په شان مطلب ئے دا دے چه الله تعالیٰ به دغه کس لره دریاب ته دوباره بوځی اوغرق به ئے کړی نوځوك به ئے بچ کړی ﴿تَبِيْعًا﴾ هغه ځوك دے چه بدله اخلی دَ خپل دشمن نه۔

[٧٠] په دے ایت کښ ترغیب دے په ذکر دَځلورو انعاماتو عاموسره دَپاره دَ دے چه دوی شکراو کړی په توحید منلوسره، نو دَ هغه عذابونونه به بچ شی چه مخکښ بیان کړے شول۔ اول انعام ﴿وَلَقَدْ كَرَّمْنَا﴾ سره بیان شویدے اوداکرامت عام دے په نطق او په تمیز سره او په عقل سره اوپه نیغ قامت سره او په ښائسته شکل سره او په خوراك کولو په ګوتو سره اوتابع کول دَ نورمخلوق هغوی لره، اودارنګ اکرام دَسړی په ګیره سره اواکرام دَ زنانو په کونځوسره، داټول په دیکښ داخل دی دویم انعام سورلی په اوچه کښ په ګاډو، موټرو او اوښانو، اسونو، خچرواوخرو وغیره سره اوپه دریابونوکښ کشتو، لانچونواو جهازونووغیره سره دریم انعام په دے کښ خوراك ځښکاك اولباس داخل دے چه په هغے کښ قسم قسم مزیدار خوش رنګ ځیزونه دی۔ ځلورم انعام فضیلت ورکول دی په ډیرمخلوق باندے جمادات نباتات حیوانات اوجنس ملائك هم دَبعض اهل علم په نیزپکښ داخل دی اوکه مراد دَفضیلت نه ظاهری وی نوداشامل دے کافرانوته هم اوکه فضیلت معنوی وی نوداخاص دے په مؤمنانو پورے۔

فَتِيْلًا ﴿٧١﴾ وَمَنْ كَانَ فِيْ هٰذِهٖٓ اَعْمٰى فَهُوَ فِي الْاٰخِرَةِ اَعْمٰى وَاَضَلُّ سَبِيْلًا ﴿٧٢﴾ وَاِنْ كَادُوْا لَيَفْتِنُوْنَكَ عَنِ الَّذِيْٓ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ لِتَفْتَرِيَ عَلَيْنَا غَيْرَهٗ ۖ وَاِذًا لَّاتَّخَذُوْكَ خَلِيْلًا ﴿٧٣﴾ وَلَوْلَآ اَنْ ثَبَّتْنٰكَ لَقَدْ كِدْتَّ

په قدر دَتار دَ هلهو کی دَکجورے (۷۱) اوهغه څوك چه دی په دے دنیا کښے ړوند (بے دلیله) پس هغه به په آخرت کښے ړوندوی او زیات بے لارے دی (۷۲) او یقیناً غواړی دامشرکان چه واړه وی تاله دَبیان دَهغه خبرے نه چه وحی کړیده مونږ تاته دے دپاره چه اوترې په مونږ باندے دَ دے نه بغیر او دغه وخت به اونیسی دوی تاله په دوستانه (۷۳) او که مونږ نه وے کلك کړے تاله یقیناً نزدے وه

[۷۱] روستوَ ذکر دَانعاماتو دَعامو خلقونه اوس فرق ذکرکوی په مینځ دَمؤمنانواوَدَکافرانوپه آخرت کښ نوپه دے ایت کښ بشارت اخروی دے اومراد دَ اِمَام، نه پیشوادَ قوم دے که هدایت والاوی اوکه ګمراه وی، دویم قول دادے چه مراد دَ امام نه عملنامه ده اودا قول غوره دے دریم قول دا دے چه مراد دَ امام نه نبی دے او ابن کثیر نقل کړیدی دَبعض سلفونه چه لوے شرافت دَ اصحاب الحدیث دا دے چه امام دَ دوی نبیﷺ دے اوتفسیرَ دے په امام دَمذهب سره یے دلیله قول دے، اوتفسیرَ امام په مور سره دا تحریف دے دَنصوصوخلاف دے ځکه نصوص په دے شاهد دی چه په ورځ دَقیامت کښ نسبت دَهر کس به دَهغه پلارته کیدے شی سیوادَعیسیٰ علیه السلام نه هاں که دَچاپلارنه وی یعنی ولدالزنا وی نوبغیرَ نسبت نه به رابللے کیدے شی۔

[۷۲] په دے کښ تخویف اخروی دے اودَ﴿اَعْمٰى﴾ اول نه دَ زړه ړوند مراد دے یعنی چه یے دلیله تقلیدکوی دَ باطل، او دویم اعمیٰ پخپله معنیٰ سره دے یا دَ دے نه هم مراد یے دلیله دے لکه فعمیت علیهم الانباء قصص (٦٦) اودَ دے وضاحت په سورة طٰهٰ (١٢٤) کښ دے۔

فائده: که شبه اوکړیشی چه نورو ایتونوکښ تصریح ده چه دوی به په ورځ دَحشرسترګے لری لکه سورة ق:(۲۲) کښ اومریم:(۳۸) کښ چه ذکردی جواب دا دے چه په ورځ دَ قیامت کښ مختلف مقامات دی، بعضِ مقاماتوکښ به اعمیٰ وی اوپه بعضوکښ به روغ وی او لفظ حشراوبعث کښ هم فرق دے بعث دَقبرنه پورته کیدل دی اوحشرپه میدان کښ راجمع کیدل دی نواَعمیٰ ئے په حشرکښ ذکرکړے دے نه په بعث کښ ﴿وَاَضَلُّ سَبِيْلًا﴾ یعنی دَ دوی ګمراهی به پوره ښکاره شی یا مراد دَ سبیل نه لاردَجنت ده۔

[۷۳] په دے کښ تحذیردے دَمداهنت کولونه، یعنی مشرکان اونورباطل پرست په اهل حق باندے کوشش کوی چه دَحق په بیانولوکښ نرم شی، مثلاً مشرکانورسول اللّٰهﷺ ته وئیل چه ته زمونږ اِلٰهَهٔ شُفعاء اومنه نومونږتا سره ملګری یو۔ اوپه لفظ دَ ﴿لِتَفْتَرِيَ﴾ کښ اشاره ده چه چا وحی (قرآن اوسنت) پریخودله نوضرورپه پهٔ اللّٰه تعالیٰ باندے افتراء کوی ﴿وَاِنْ كَادُوْا﴾ ان مخفف دے دَمثقل نه نوپه اصل کښ اَنَّهٗ دے۔ كَادُوْا په معنیٰ دَ اراده کولواوکوشش کولوسره دے ﴿الَّذِيْٓ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ﴾ مراد دَ دینه توحید دے ځکه چه دُشمنی دَ دوی دَتوحید سره ده لکه چه په (٤٦) کښ تیرشوی دی او ﴿غَيْرَهٗ﴾ نه مراد شرك دے ﴿خَلِيْلًا﴾ هغه دوست وی چه دَ زړه حاجت ورباندے سرکیږی یا هغه دے چه دَهغه دَمینے دَپاره زړه دَنورومحبتونونه خالی وی مراد ترینه قریبی اومخلص دوست دے۔

تَرْكَنُ اِلَيْهِمْ شَيْـًٔا قَلِيْلًا ﴿٧٤﴾ اِذًا لَّاَذَقْنٰكَ ضِعْفَ الْحَيٰوةِ وَضِعْفَ الْمَمَاتِ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ عَلَيْنَا نَصِيْرًا ﴿٧٥﴾
وَاِنْ كَادُوْا لَيَسْتَفِزُّوْنَكَ مِنَ الْاَرْضِ لِيُخْرِجُوْكَ مِنْهَا وَاِذًا لَّا يَلْبَثُوْنَ خِلٰفَكَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿٧٦﴾ سُنَّةَ
مَنْ قَدْ اَرْسَلْنَا قَبْلَكَ مِنْ رُّسُلِنَا وَلَا تَجِدُ لِسُنَّتِنَا تَحْوِيْلًا ﴿٧٧﴾ اَقِمِ الصَّلٰوةَ لِدُلُوْكِ الشَّمْسِ اِلٰى غَسَقِ ع

چه کوږ شوے به وے دوی ته لږ غوندے (٧٤) دغه وخت خامخا څکولے به وے مونږ تاته دو چند عذاب په ژوند د دنیا او دوچند پس د مرګ نه بیابه اونه مومے ته ځان لره په مونږ باندے امدادی (٧٥) او یقیناً دوی غواړی چه چلونه جوړ کړی تاته په دے زمکه (د مکه کښے) دپاره د دے چه اوباسی تاله د دے نه اوبه دغه وخت به حصار نشی دوی ستانه روستو مګرلږ وخت (٧٦) په شان د طریقے (ځما) دهغه چا سره چه لیږلی دی مونږ ستانه پخوا رسولان زمونږ او اوبه نه مومے زمونږ طریقے لره بدلیدل (٧٧) کوه مونځونه د وخت د زوال د نمر نه ترتیارے

[٧٤] دا دلیل دے چه پیغمبرمشرکانوسره هیڅ مداهنت نه دے کړے بلکه معصوم وواوپه عصمت اوتثبت کښ اللّٰه تعالیٰ ته محتاج وواوپه دے کښ ډیرتاکیدات دے یوکِدتّ دویم تَرکَنُ دریم شیئاً (په اثبات کښ) څلورم قَلِیلاً دے۔

[٧٥] په دے کښ تعریض دے امت ته چه پیغمبرته مداهنت نه معاف کیږی نوتاسوته به څنګه معاف کړیشی او ایت کښ اشاره ده چه څومره چه د چا درجه اعلیٰ وی نودومره به په وخت د مخالفت کولوکښ د هغه عذاب لوئے وی۔

[٧٦] د دے ایت نه دریمه حصه ده تر(١٠٠) پورے په دے کښ دریم سبب د عذاب ذکرکوی چه هغه ویستل د رسولانودی د ملك د هغوی نه اود دے مثال ورکوی په هجرت د نبی زمونږ(٧٦، ٧٧)کښ بیا څلور اداب اوامور مصلحه ئے ذکرکړی دی د پاره د تثبت په وخت د ابتلاء کښ د (٧٨) نه تر(٨١) پورے بیا ترغیب الی القرآن دے په (٨٢) کښ بیا پنځه زجرونه دی اول زجرپه سبب د اعراض کولو (٨٣، ٨٤) کښ دویم زجردے په سوال عناداً (٨٥، ٨٦، ٨٧)کښ اوصدق د قرآن په طریقه د تحدی سره په (٨٨) کښ دریم زجرپه اعراض عن القرآن(٨٩)کښ څلورم زجرپه طلب د ایاتونواتو تعنتاً (عناداً) (٩٠، ٩١، ٩٢) کښ پنځم زجرپه انکارد بشریت د رسول (٩٤) اود هغے جواب (٩٥)کښ اواثبات د رسالت په شهادت د اللّٰه تعالیٰ سره (٩٦)کښ بیاتخویف اخروی(٩٧)کښ اوسبب د هغے انکارد بعث (٩٨)کښ اومقصدپه دے کښ اثبات د توحید اورسالت دے۔ په دے ایت(٨٦)کښ د مشرکانوکوششونه اومکرونه د پاره د اخراج د رسول ته اشاره شوے ده یعنی هرکله چه حیله د مداهنت د دوی کامیابه نه شوه نودوی د هغه د ویستلوکوشش شروع کړلوپه لفظ﴿لَيَسْتَفِزُّوْنَكَ﴾ سره﴿وَاِذًا لَّا يَلْبَثُوْنَ﴾ کښ اشاره ده عذاب د اهل مکے ته۔ استفزازپه چلونواومکرونوسره خوئیدل اوویستل دی۔

[٧٧] په دے کښ کید دے د تیرشوی تخویف یعنی په دوی به عذاب راشی په شان د حال د تیر شوو قومونوچه هغوی رسولان شړلی وو نوعذاب پرے راغے نوهرکله چه مشرکان مکه په مختلف طریقو سره نبی ﷺ لره تنګ کړواود مکے نه ئے ویستلونویونیم کال روستو په بدرکښ مشرکان اوژلے شول اوذلیل شول۔

الَّيْلِ وَقُرْاٰنَ الْفَجْرِ ۭ اِنَّ قُرْاٰنَ الْفَجْرِ كَانَ مَشْهُوْدًا ﴿۷۸﴾ وَمِنَ الَّيْلِ فَتَهَجَّدْ بِهٖ نَافِلَةً لَّكَ ۖ عَسٰٓى اَنْ يَّبْعَثَكَ
رَبُّكَ مَقَامًا مَّحْمُوْدًا ﴿۷۹﴾ وَقُلْ رَّبِّ اَدْخِلْنِيْ مُدْخَلَ صِدْقٍ وَّاَخْرِجْنِيْ مُخْرَجَ صِدْقٍ وَّاجْعَلْ لِّيْ مِنْ
لَّدُنْكَ سُلْطٰنًا نَّصِيْرًا ﴿۸۰﴾ وَقُلْ جَاۗءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ ۭ اِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوْقًا ﴿۸۱﴾ وَنُنَزِّلُ مِنَ

دَ شپے پورے اومونځ دَ صبا یقیناً مونځ دَ صبا ته حاضری کیدیشی (دَ ملائکو) (۷۸) او دَ شپے په یوه برخه کښے تهجد کوه دازیاتی دے ستا دپاره نزدے ده چه اوبه رسوی تارب ستائځائے ستائیلے شوی ته (۷۹) او ته وایه اے ربه داخل کړے مالره په داخلیدلو دَ رشتیاؤ او اوباسے ما په ویستلو دَ رشتیاؤ او راکړے مالره دَ خپل طرف نه غلبه چه مدد ورسره وی (۸۰) اوته اُوایه راغے حق او ورك شو باطل یقیناً باطل دے ورکیدونکے (۸۱) او نازلوو مونږ

[۷۸] په دے ایت کښ ذکردَاول امرِمصلح اوادب دے دپاره دَ تثبت اومرادَ دینه پابندی اوهمیشګیری ده په ټولومونځونو باندے او ﴿مَشْهُوْدًا﴾ وجه داده چه ملائِك دَ شپے اودَ ورځے په دغه مونځ کښ جمع کیږی، دَ ﴿لِدُلُوْكِ﴾ یومعنیٰ زوال دَ نمر دویمه معنیٰ غروب دَ نمر، په اوله معنیٰ سره درے مونځونوته اشاره ده ماسپخین، مازیګر، ماښام اوپه دویمه معنیٰ صرف دَ ماښام مونځ مراد دے ابن جریراوابن کثیراول قول دَ ډیروصحابواوتابعینونه نقل کړیدے اودَ دلوك په معنیٰ زوال سره یومرفوع حدیث ئیے هم راوړے دے نودغه قول غوره دے ﴿قُرْاٰنَ﴾ دا مصدر دے په معنیٰ دَ قراءة سره دے اومراد دَ قراءة نه ټول مونځ دیے ځکه چه قرآن لوستل رکن اصلی دے په مونځ کښ۔

[۷۹] په دے کښ دویم امرمصلح او ادب ذکردے چه هغه صلوة اللیل دے پس دَ بیدارئے دَ خوب نه۔ ﴿فَتَهَجَّدْ﴾ په معنیٰ دَ ترك هجود (خوب) دے نومعلومه شوه چه تهجد هغه مونځ دے چه روستودَ شپے دَخوب نه وی یعنی دَنیمے شپے نه روستودَ هغے غوره وخت شروع کیږی ﴿نَافِلَةً لَّكَ﴾ یومعنیٰ دا ده چه دا زیاتی عزت اواکرام ستا دے دویمه معنیٰ داچه داعطیه اوبخښش ستا دے اولفظ دَ نافلة دلیل دے چه داپه نبی ﷺ باندے هم فرض نه وواودا صحیح قول دے لیکن تخصیص دَ هغه په لفظ دَ(لك) سره دَ وجے دَشرافت دَ هغے نه دے ځکه چه نفل کولوسره دَ امت ګناهونه معاف کیږی اوهرچه نبی ﷺ دے نودَ هغه درجات پرے زیاتی کیږی، ځکه چه هغه ګنهګارنه دے ﴿مَقَامًا مَّحْمُوْدًا﴾ نه مرادمقام دَشفاعت کبریٰ دے یامقام دَ زیات قربت دَ اللّٰه تعالیٰ دے اول قول غوره دے اومحمود ورته په دے وجه سره وائی چه دَ دغه مقام ستائنه به کیدے شی۔ یا مَحمُودًا په معنیٰ دَمحمود فیه سره دے ځکه چه په حدیث دَ شفاعت کښ راغلی دی چه په هغه مقام کښ به ماته داسے حمدونه اوخودلے شی چه دَ هغے نه مخکښ ماته نه دی خودلے شوی۔

[۸۰] په دے کښ دریم امرمصلح اوادب دے ﴿مُدْخَلَ صِدْقٍ اومُخْرَجَ صِدْقٍ﴾ نه مراد دا دے چه دخول اوخروج دَ اللّٰه تعالیٰ دَ رضا دپاره وی اودَ هغه په امرسره وی دَ دنیا دَمقصد اوپه خپل خواهش سره نه وی۔ ﴿سُلْطَانًا نَّصِيْرًا﴾ مراد دَ دے حجت قویه دے یا مراد دَ دینه هغه غلبه ده چه په مدد دَ اللّٰه تعالیٰ سره وی یعنی روستودَ غلبے نه بیاکمزوری نه پیداکیږی اوپه دے کښ اشاره ده چه روستودَ هجرت فی سبیل اللّٰه نه سلطان اونصرت حاصلیږی۔

الْقُرْاٰنِ مَا هُوَ شِفَآءٌ وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ۙ وَلَا يَزِيْدُ الظّٰلِمِيْنَ اِلَّا خَسَارًا ﴿۸۲﴾ وَاِذَآ اَنْعَمْنَا عَلَى الْاِنْسَانِ
اَعْرَضَ وَنَاٰ بِجَانِبِهٖ ۚ وَاِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ كَانَ يَـُٔوْسًا ﴿۸۳﴾ قُلْ كُلٌّ يَّعْمَلُ عَلٰى شَاكِلَتِهٖ ؕ فَرَبُّكُمْ اَعْلَمُ بِمَنْ هُوَ

قرآن کښے هغه شے چه هغه شفاالو رحمت دے ایمان والو لره اونه زیاتوی ظالمانو لره مګر تاوان (۸۲) او کله چه انعام اوکړو مونږ په انسان باندے نو مخ او ګرځوی او لرے کړی خپله ډ ډه اوکوم وخت چه اورسی دهٔ ته تکلیف نووی دے نا امیده (۸۳) اُوایه هریو عمل کوئ په خپله طریقے سره پس رب ستاسو ښه پوهه دے په هغه چاچه هغه

[۸۱] په دے کښ خلورم امرمصلح اوادب دے اودا خبره په طریقه دَ پیشنګوئیے سره ده، اوبشارت اوتسلّی ده دَ دے وجے نه حدیث دَ صحیحین کښ وارد دی چه کله مکه فتح کړے شوه او رسول اللّٰه بُتان درے سوه شپیته په خپله نیزه اُوهل نودائیے او فرمائیل۔ جَاءَ الحَقُّ وَزَهَقَ البَاطِل اه الحَق نه مراد توحید، قرآن اورسالت دے۔

[۸۲] په دے ایت کښ ترغیب دے قرآن ته یعنی مهاجرډپاره قرآن لوستل ډیرضروری دی۔ اواشاره ده چه دَ استفادے دَ قرآن دپاره ایمان ضروری دے اوکله چه عناد اوضدوی نودَ قرآن په سبب سره نقصان زیاتیږی لکه په سورة مائده (٦٤، ٦٨) کښ دی او ﴿شِفَآءٌ﴾ نه مراد شفاء دَ امراضوروحانیواوظاهریودواړو ده۔ روحانیه امراض شرك، شك، نفاق وغیره دی اوظاهریه امراضودَپاره دَ قرآن دم لوستل په ډیرو صحیح روایاتوسره ثابت دی اودَ هغے تعویذ لیکل په حدیث صحیح مرفوع سره ثابت نه دی اګرچه موقوف حدیث اوعمل دَسلفوپه زاد المعاد دَ ابن قیم کښ اوروح المعانی دَ دے ایت دَلاندے ذکرکړے دے۔ ﴿وَرَحْمَةٌ﴾مراد دَ دینه زیاتیدل دَایمان اوتثبت اوثوابونه دی چه په قرآن کریم سره حاصلیږی﴿مِنَ الْقُرْاٰنِ﴾من بیانیه دے دَ ﴿مَاهُوَ﴾دَپاره اګرچه په هغے باندے مخکښ دے یامن دپاره دَتبعیض دے اومراد دادے چه هره حصه دَقرآن شفاء اورحمت دے۔

[۸۳] دا حال دَ ظالمانودے چه مخکښ ایت کښ ذکرشویدی اوپه دے کښ زجردے په اعراض کولوسره دَتوحیداودَ قرآن نه روستودَ ترغیب الی القرآن نه اودا اعراض دے په سبب دَمالدارئے اودَ وسعت اودَصحت سره اودا معنیٰ دَ انعَمنَا ده او نااُمیدی کول په وخت دَسختئے کښ او ﴿نَا بِجَانِبِهٖ﴾ نه مراد لرے تلل دَموضع بیان دَحق نه یا تکبرکوی دوی﴿يَـُٔوْسًا﴾ یومعنیٰ دا ده چه دَ اللّٰه تعالیٰ نه نا امیدی کوی اودَ هغے تائید په سورة یوسف (۸۷)کښ دے، دویمه معنیٰ دا ده چه په وخت دَ سختئے اومصیبت کښ دَخپلوباطلومعبودانونه نا امیده وی اوصرف اللّٰه تعالیٰ ته اوازکوی لکه چه دا عادت دَ مشرکین عرب وو اودارنګ په سورة هود (۹، ۱۰) کښ دی۔

اَهْدٰى سَبِيْلًا ﴿٨٤﴾ وَيَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الرُّوْحِ ؕ قُلِ الرُّوْحُ مِنْ اَمْرِ رَبِّيْ وَمَآ اُوْتِيْتُمْ مِّنَ الْعِلْمِ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿٨٥﴾ ع
وَلَئِنْ شِئْنَا لَنَذْهَبَنَّ بِالَّذِيْٓ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ بِهٖ عَلَيْنَا وَكِيْلًا ﴿٨٦﴾ اِلَّا رَحْمَةً مِّنْ
رَّبِّكَ ؕ اِنَّ فَضْلَهٗ كَانَ عَلَيْكَ كَبِيْرًا ﴿٨٧﴾ قُلْ لَّئِنِ اجْتَمَعَتِ الْاِنْسُ وَالْجِنُّ عَلٰٓى اَنْ يَّاْتُوْا بِمِثْلِ هٰذَا

په سمه لار روان دے (۸٤) او دوی ستانه تپوس کوی په باره دَ روح کښے ته اُوایه روح (پیدا شویدے) په حکم دَ رب ځما اونه ده درکړے شوے تاسوته دَ پوهے نه مګر لږه غوندے (۸۵) او که مونږ اوغواړو خامخا بوځوبه ستانه هغه شے چه وحی کړیده مونږ تاته بیابه اونه مومے ته ځان له پدے سره زمونږ په مقابله کښے مددګار (۸٦) لیکن (نه ئے بوځو) دَ وحے دَ رحمت دَ رب ستانه یقیناً فضل دَ اللّٰه تعالیٰ دے په تاباندے ډیر لوئے (۸۷) ته اُوایه که چرے جمع شی انسانان او پیریان په دے خبره چه راوړی په شان دَ دے

[۸٤] په دے ایت کښ تسلی ده نبی ﷺ ته اوبرائت کول دی دَمشرکانونه چه مخکښ ایت کښ دَهغوی ذکرتیرشو ﴿شَاكِلَتِهٖ﴾ په معنیٰ دَ طریقے اونیت اودَ طبیعت سره راغلے دے۔ اوداسے په سورة هود (۱۲۱) کښ شته دے۔

[۸۵] په دے کښ زجردے په سوال عنادی اوتعنّتی سره چه مطلب دَسوال ځان پوهه کول نه دی بلکه مسئول عنه چپ کول ئے صرف مقصد وی دا سوال مشرکان عرب دَیهودوپه لمسه سره کړے وونو دواړودّپاره زورنه ده اودَ دے ربط دے دَ اَعرَضَ اودَنآبجانبِهٖ سره یعنی معرضین خلق داسے تپوسونه کوی اومراد دَ رُوح نه، په دے کښ ډیراقوال دی یوداچه دَ ژوند روح دے دَهغوی دَسوال مقصد دا دے چه روح دَکوم ځائے نه ښکاره شوے دے لکه چه معلومه شوه چه بدن خودَ خاورونه پیدا شوے دے، نوروح دَکوم ځائے اوکومے مادے نه پیدا شو؟ نوجواب ورکړے شوچه روح دَعالم الامرنه راکوزشوے دے اودَدے نه زیات په تفصیل باندے تاسوپوهیدلے نشئے ځکه چه بعض څیزونه دَمتشابهاتونه دی۔ نوپه دے تحقیق سره معلومه شوه چه جواب دَهغوی دَسوال سره موافق دے او دویم قول دا دے چه مراد دَ روح نه قرآن دے چه سورة نحل په آیت (۲) کښ په هغے باندے اطلاق دَ روح کړے شویدے یعنی قرآن دَځان نه تاجورکړے دے یاجبرائیل دَ ځان نه راوړے دے؟۔ جواب اوشو چه دا دَ اللّٰه تعالیٰ په امرسره نازل شویدے۔ دریم قول دا دے چه مراد دَ دے نه جبرائیل دے ځکه چه قرآن کښ هغه ته الروح الامین اوروح القدس وئیلے شویدے یعنی دوی سوال کوی چه جبرائیل دَځه نه پیدا دے۔

[۸۷،۸٦] په دے ایتونوکښ صدق دَ قرآن ذکردے اوتسلی ده پیغمبرته چه دَ دوی دَاعتراضونوپه وجے سره په تا باندے رحمت اووحی دَاللّٰه تعالیٰ نه بندیږی۔ اودا ایت دلیل دے چه وحی نبی دَځان نه نشی جوړولے، اوپه دے لفظ ﴿اِنَّ فَضْلَهٗ كَانَ عَلَيْكَ كَبِيْرًا﴾ کښ دَ رسول اللّٰه ﷺ عظمت شان ته اشاره ده ﴿رَحْمَةً﴾ ابقاء دَ وحی دَ قرآن نعمت خاصه دے اوفَضلَهٗ کښ اشاره ده نورو صفتونودَ نبی ﷺ ته۔

الْقُرْاٰنِ لَا یَاْتُوْنَ بِمِثْلِهٖ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِیْرًا ﴿٨٨﴾ وَلَقَدْ صَرَّفْنَا لِلنَّاسِ فِیْ هٰذَا الْقُرْاٰنِ
مِنْ كُلِّ مَثَلٍ ۚ فَاَبٰۤی اَكْثَرُ النَّاسِ اِلَّا كُفُوْرًا ﴿٨٩﴾ وَقَالُوْا لَنْ نُّؤْمِنَ لَكَ حَتّٰی تَفْجُرَ لَنَا مِنَ الْاَرْضِ
یَنْۢبُوْعًا ﴿٩٠﴾ اَوْ تَكُوْنَ لَكَ جَنَّةٌ مِّنْ نَّخِیْلٍ وَّعِنَبٍ فَتُفَجِّرَ الْاَنْهٰرَ خِلٰلَهَا تَفْجِیْرًا ﴿٩١﴾ اَوْ تُسْقِطَ السَّمَآءَ
كَمَا زَعَمْتَ عَلَیْنَا كِسَفًا اَوْ تَاْتِیَ بِاللّٰهِ وَالْمَلٰٓئِكَةِ قَبِیْلًا ﴿٩٢﴾ اَوْ یَكُوْنَ لَكَ بَیْتٌ مِّنْ زُخْرُفٍ اَوْ تَرْقٰی
فِی السَّمَآءِ ؕ وَلَنْ نُّؤْمِنَ لِرُقِیِّكَ حَتّٰی تُنَزِّلَ عَلَیْنَا كِتٰبًا نَّقْرَؤُهٗ ؕ قُلْ سُبْحَانَ رَبِّیْ هَلْ كُنْتُ اِلَّا بَشَرًا
رَّسُوْلًا ﴿٩٣﴾ وَمَا مَنَعَ النَّاسَ اَنْ یُّؤْمِنُوْۤا اِذْ جَآءَهُمُ الْهُدٰۤی اِلَّاۤ اَنْ قَالُوْۤا اَبَعَثَ اللّٰهُ بَشَرًا رَّسُوْلًا ﴿٩٤﴾ قُلْ

قرآن نو نشی راوړے دَ دے په شان اګر که شی بعضے دَ دوی دَ بعضو د پاره مددګار (۸۸) او یقیناً قسما قسم بیان کړیدی مونږ خلقوته په دے قرآن کښے دَ هر قسم بیان نه پس نه کوی ډیر خلق بل کار سیوا دَ نا شکرئ نه (۸۹) او دوی وائی چرے مونږ ایمان نه راوړو په تاباندے تردے پورے چه رااوباسے مونږ لره دَ زمکے نه چینے (۹۰) یاوی تاله باغ دَکجورو اوانګورو پس چه اوبَیوے نهرونه په مینځ دَهغے کښے په ډیر بَیولو سره (۹۱) یارا او غورځوے ته اسمان لکه څنګ چه ستا ګمان دے په مونږ باندے ټکړے یاراولے ته اللّٰه تعالیٰ او ملائکو لره مخامخ (۹۲) یا وی ستا کوټه دَ سروزرو یا او خیژے اسمان ته او چرے نه منو مونږ ختل ستا تردے چه نازل کړے په مونږ باندے کتاب چه مونږ ئے اولولو ته اُوایه پاکی ده دَرب ځما نه یم ځه مګر بشر رسول یم (۹۳) اونه دے منع کړے خلقو لره دَ ایمان راوړلونه کله چه راغے دوی ته هدایت مګر دے بهانے چه دوی وائی ایا رااولیږلو اللّٰه تعالیٰ بشر لره رسول (۹٤) ته اُوایه

[۸۸] په دے کښ اثبات دَ صدق دَ قرآن کریم دے په طریقه دَتحدی سره اوبیان دَاعجاز دَ قرآن کریم دے اوپه ایت کښ اشاره ده عجزدَ ټول مخلوق ته نودوی اِلٰهَ نشی کیدلے اوپه سورة یونس (۳۸) کښ تحدی په یوسورة سره ده اوسورة هود (۱۳) کښ په لس سورتونوسره ده اوپه سورة طور (۳٤) کښ په لفظ دَحدیث سره چه یوخبرے ته شامل دے۔

[۸۹] دایوعلت دے دَپاره دَاعجازدَ قرآن کریم په دے کښ روستودَ ترغیب الی القرآن نه زجردے په انکاردَ قرآن سره ﴿مِنْ كُلِّ مَثَلٍ﴾ مثل نه مراد قسما قسم بیانات دی یعنی دلیلونه زجرونه تخویفات اوبشارات وغیره۔

فائده: په لفظ دَاَبیٰ کښ معنیٰ دَنفی موجود ده یعنی لایفعل شیئاً دَ دے وجے نه استثناء ترینه صحیح شوه اوپه دے جمله کښ ډیرتاکید دے په انکارکولو کښ۔

[۹۰،۹۱،۹۲،۹۳] په دے آیاتونو کښ زجردے په طلب دَ آیاتودَ رسول اللّٰه نه په طریقه دَضداودَعناد سره۔ اوپه دے کښ دَ اته آیاتونومطالبے ذکرشویدی په اول کښ دَ زمکے دَمکے نه چینے راویستل دی چه فائده ئے عامه شی اوپه دویم کښ باغونه اونهرونه پیداکیدل اګرچه ستا دَپاره خاص وی اودا تصرفات دَ زمکے دی اوپه دریم کښ تصرف کول په آسمان کښ دی اوتصرف کول په آسمان والاکښ اوپه څلورم کښ تبدیلی دَ فقیرئ نه مالدارئ ته یا ترقی کول په داسے طریقه چه زمکے نه آسمان ته اوخیژی اوهرکله چه رسول اللّٰهﷺ هغوی ته وئیلی ووچه ځه په شپه دَمعراج کښ آسمان ته ختلے یم نوهغوی

لَوْ كَانَ فِي الْأَرْضِ مَلٰٓئِكَةٌ يَّمْشُوْنَ مُطْمَئِنِّيْنَ لَنَزَّلْنَا عَلَيْهِمْ مِّنَ السَّمَآءِ مَلَكًا رَّسُوْلًا ﴿٩٥﴾ قُلْ كَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا بَيْنِيْ وَبَيْنَكُمْ ؕ اِنَّهٗ كَانَ بِعِبَادِهٖ خَبِيْرًا بَصِيْرًا ﴿٩٦﴾ وَمَنْ يَّهْدِ اللّٰهُ فَهُوَ الْمُهْتَدِ ۚ وَمَنْ يُّضْلِلْ

که په زمکه کښے وی ملائك چه گرځیدے اوسیدونکے وے نورالبرلے به ؤو مونږ په دوی باندے دَ اسمان نه ملك رسول (۹۵) ته اُوایه پوره دے اللّٰه تعالیٰ گواه (فیصله کؤنکے) په مینځ ځما او په مینځ ستاسو کښے یقیناً اللّٰه تعالیٰ دے په بندګانو خپلو خبردار لیدونکے(۹۶)او هغه څوك چه هدایت اوکړی اللّٰه تعالیٰ هغه ته پس هغه هدایت موندونکے دے اوهغه څوك چه بے لارے کړی اللّٰه تعالیٰ هغه لره

زرمطالبه بدله کړه چه صرف ختل نهٔ منوبلکه غټ کتاب به دَځان سره راوړے ۔

فائده: دَ باطل پرستو عقیده په باره دَنیکانو خلقوکښ داوی چه دَ دوی سره دَ زمکے اوآسمان تصرفات دی اواللّٰه تعالیٰ اوملائك هم دَ دوی تابع دی دَ دے عقیدے په بِنا سره دوی دَ رسول اللّٰهﷺ نه دا مطالبے کولے۔ دَ جواب حاصل دا دے چه ځه بشریم اورسول یم اودَبشراګرچه رسول وی په قدرت کښ تصرفات دَعالم نیشته ﴿كَمَا زَعَمْتَ﴾ په دے کښ اشاره ده هغه اياتونوته چه په هغے کښ دَآسمانونو انشقاق او انفطار ذکردے اودوی دَ هغے نه (دَ کفردَ وجے نه) تعبیراوکړوپه زعم سره ﴿لِرُقِيِّكَ﴾ مصدردے دَ رقی او ارتقاء نه په معنیٰ دَ ختلوسره دے اوپه معنیٰ دَ صحیفے او وړو کی کتاب سره خوپه هیڅ لغت کښ نه دی راغلی نودغه معنیٰ غلطه ده، سوال: په حدیث دَمسند احمدکښ دی چه اللّٰه تعالیٰ نبیﷺ ته او فرمائیل که ته غواړے چه بطحاء(شګه) دَمکے ستا دپاره سره زرجوړ کړم لیکن هغه ردکړه؟ جواب دَ هغه حدیث په سند کښ علی بن یزید راوی دے هغه ضعیف دے۔

[۹۴] دا زجردے په انکاردَبشریت دَ رسول، اوداسوال دَ تیرشوی ایت نه پیدا شوچه مخکښ اُوئیلے شوچه ځه بشررسول یم نودوی دَ دے وجے نه انکار اوکړوحاصل دَ ایت دا دے چه بشریت دَ رسول صرف مانع دے دوی لره دَ رسول منلونه اوپه سورۃ کهف (۵۵) کښ مانع دَ توحید دَمنلونه ذکرکړیدے دَ دے وجے په دواړه خصرونوکښ منافات نیشته دے اواوس هم باطل پرست خلق لکه بریلیان دَ رسول دَبشریت نه منکردی صرف فرق دا دے چه مخکنوخلقورسول لره په سترګولیدلوچه بشردے نودَ رسالت نه ئے انکارکوؤاودے موجودوخلقورسول په سترګونه دے لیدلے نودوی دَ بشریت نه انکارکوی اودواړه په دے عقیده کفریه کښ شریك دی چه دَ بشریت اورسالت په مینځ کښ منافات دے۔

[۹۵] په دے ایت کښ جواب دَ تیرشوی سوال دے حاصل دَجواب ئے دا دے چه رسول دَجنس دَمرسل الیهم نه ضرور پکاروی نوکه په زمکه کښ ملائك وے نودَ دوی رسول به ضرورمَلَك وؤدَهغوی دَجنس نه، لیکن تاسوبشرئیے نوستاسو رسول به ضرور بشروی ﴿يَمْشُوْنَ مُطْمَئِنِّيْنَ﴾ کښ اشاره ده چه که ملائك داسے شی چه اسمان ته نشی ختلے په زمکه کښ ژوند تیروی اودائیے ځکه اوفرمائیل چه زمکه کښ خوملائك شته لیکن هغوی اسمانونوته ځی راځی۔

[۹۶] داهم جواب دے اواثبات دَ رسالت دَ رسول اللّٰهﷺ دے په شهادت دَ اللّٰه تعالیٰ سره، اودارنګ په سورۃ رعد (۴۳) کښ دی ﴿شَهِيْدًا﴾ شهادت کول دَ اللّٰه تعالیٰ په رسالت دَ رسول باندے هغه اخبارات

فَلَنْ تَجِدَ لَهُمْ اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِهٖ ؕ وَنَحْشُرُهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ عَلٰى وُجُوْهِهِمْ عُمْيًا وَّبُكْمًا وَّصُمًّا ؕ مَاْوٰىهُمْ
جَهَنَّمُ ؕ كُلَّمَا خَبَتْ زِدْنٰهُمْ سَعِيْرًا ﴿٩٧﴾ ذٰلِكَ جَزَآؤُهُمْ بِاَنَّهُمْ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِنَا وَقَالُوْٓا ءَاِذَا كُنَّا عِظَامًا وَّرُفَاتًا
ءَاِنَّا لَمَبْعُوْثُوْنَ خَلْقًا جَدِيْدًا ﴿٩٨﴾ اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّ اللّٰهَ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ قَادِرٌ عَلٰٓى اَنْ يَّخْلُقَ
مِثْلَهُمْ وَجَعَلَ لَهُمْ اَجَلًا لَّا رَيْبَ فِيْهِ ؕ فَاَبَى الظّٰلِمُوْنَ اِلَّا كُفُوْرًا ﴿٩٩﴾ قُلْ لَّوْ اَنْتُمْ تَمْلِكُوْنَ خَزَآئِنَ رَحْمَةِ رَبِّيْٓ

پس چرے اوبه نه مومے ته هغوی لره مددګار سیوا دَ الله تعالیٰ نه او راغونډ به کړو مونږ دوی په ورځ دَ قیامت په مخونو دَ هغوی باندے رانده اوچاړه ګان او کانړه ځائے دَ دوی جهنم دے هرکله چه لمبے کمے شی نو زیاتوؤ به دوی لره لمبے دَ اور (۹۷) دا سزا دَ دوی ده په دے وجه چه دوی کفر کړیدے په ایاتونو زمونږ او دوی وائی ایا کله چه مونږ شو هډوکی او ذرے ذرے ایا پورته به کړے شو په پیدائش نوی سره (۹۸) ایا نه ګوری دوی چه یقیناً الله تعالیٰ داسے ذات دے چه پیدا کړی دی اسمانونه او زمکه قادر دے چه پیدا کړی دَ دوی پشان او مقرر کړیده دَ دوی دپاره نیټه نیشته شك په هغے کښ پس نه کوی ظالمان بل کار سیوا دَ ناشکرئ کولونه(۹۹) ته اُوایه که تاسو شئ اختیار مند دَ خزانو دَ رحمت دَ رب ځما

اوحجتونه دی چه الله تعالیٰ په قرآن کریم کښ په ډیرو ایاتونو کښ ذکر کړی دی اوپه هغے فیصله کیږی دَ دوه فریقوپه منیځ کښ دَ دے وجے نه بینی وبینکم ئیے اوئیلو۔ یا دَشهادت نه علم دَ الله تعالیٰ په حال دَنبی اوپه حال دَ منکرینوباندے مراد دے یعنی بالفرض دا نبی حق نه وے نو الله تعالیٰ به دے هلاك کړے وے لکه چه په سورة الحاقه (٤٥، ٤٦) کښ ذکر دی۔

[۹۷] په دے ایت کښ ذکر دَ دوو ډلودے پس دَ اثبات دَ رسالت نه ځوك به دارسول منی اوځوك به ئیے نه منی اوبیانه منونکوته تخویف اخروی دی اودارنګ داجواب سوال دے چه دا رسول که چرته په حقه باندے وے نولازم داده چه ټولو خلقوبه هدایت موندلے وے حاصل جواب دادے چه هدایت اواضلال په اختیارَ الله تعالیٰ کښ دے﴿وَنَحْشُرُهُمْ﴾ اودارنګ په سورة فرقان(۳٤)کښ دی او﴿عُمْيًا وَّبُكْمًا وَّصُمًّا﴾ په حقیقت حمل دے یعنی په بعض حالت کښ په ورځ دَحشربه دَ دوی داسے حال وی، اوحدیث صحیح کښ راغلی دی (الیس الذی امشاه علی رجلین قادرعلی ان یمشیه علی وجهه یوم القیامة) یعنی هغه ذات چه په دنیاکښ ئیے دوی په خپوباندے ګرځولی دی نوهغه قادر دے چه په قیامت کښ ئیے په مخ باندے اوګرځوی په عذاب دَ جهنم کښ تخفیف نه راځی لکه نورونصوصوکښ دا ظاهر راغلی دی۔

[۹۸] په دے کښ اسباب دَعذاب ئیے ذکر کړی دی یوکفربالآیات یعنی انکارَتوحید نه، اودویم انکارَ بعث بعد الموت نه اودا دویم سبب دَ دے سورة په (٤٩) کښ ذکر وؤ۔

[۹۹] دا دلیل عقلی دے دَپاره دَاثبات دَبعث بعد الموت اودَپاره دَتوحید ﴿فَاَبَى الظّٰلِمُوْنَ اِلَّا كُفُوْرًا﴾ په دے کښ ئیے ظالمون لفظ دَ دے وجے نه راوړوچه انکارَ قدرت دَ الله تعالیٰ نه لوئیے ظلم دے اوپه (۸۹) کښ الناس ئیے ذکر کړے دے ځکه صرفنا للناس پکښ ذکر کړے دے ﴿عَلٰٓى اَنْ يَّخْلُقَ مِثْلَهُمْ﴾ دارنګ په سورة یٰس(۸۱)کښ اوپه سورة احقاف (۳۳)کښ دی اودَمثلهم نه مراد نفس ذاتونه دَ دے خلقو دی

اِذًا لَّاَمْسَكْتُمْ خَشْيَةَ الْاِنْفَاقِ ؕ وَكَانَ الْاِنْسَانُ قَتُوْرًا ﴿١٠٠﴾ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسٰى تِسْعَ اٰيٰتٍۭ بَيِّنٰتٍ فَسْـَٔلْ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ
اِذْ جَآءَهُمْ فَقَالَ لَهٗ فِرْعَوْنُ اِنِّيْ لَاَظُنُّكَ يٰمُوْسٰى مَسْحُوْرًا ﴿١٠١﴾ قَالَ لَقَدْ عَلِمْتَ مَآ اَنْزَلَ هٰٓؤُلَآءِ اِلَّا رَبُّ
السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ بَصَآئِرَ ۚ وَاِنِّيْ لَاَظُنُّكَ يٰفِرْعَوْنُ مَثْبُوْرًا ﴿١٠٢﴾ فَاَرَادَ اَنْ يَّسْتَفِزَّهُمْ مِّنَ الْاَرْضِ فَاَغْرَقْنٰهُ وَ

نو دغه وخت به خامخا تاسو بند کړئ د یرے د خلاصیدلونه او دے انسان ډیر تنګ زړے (۱۰۰) او یقیناً ورکړے دی مونږ موسیٰ(علیه السلام) ته نهه معجزات ښکاره پس تپوس ئے او کړه د بنی اسرائیلونه کله چه راغے موسیٰ(علیه السلام) دوی ته پس اُوئیل هغه ته فرعون یقیناً څه ګمان کؤوم په تاباندے اے موسیٰ جادو کړے شوے (۱۰۱) اُوئیل موسیٰ(علیه السلام) یقیناً ته پوهه ئے چه نه دی نازل کړی دا آیات مګر رب د آسمانونو او دَزمکے دلیلونه د ښکاره کولو د توحید او یقیناً څه ګمان کؤوم په تاباندے اے فرعونه تباه کړے شوے (۱۰۲) پس اوغوښته فرعون چه اوباسی دوی لره (په زور) د ملك دَمصر نه پس غرق کړو مونږ دے او

څکه چه مثل کله په معنیٰ د ذات راځی او ایت (۳۳) سورة احقاف د دے تفسیردے۔ څکه چه په هغے کښ د مثلهم په ځائے کښ الموتیٰ ذکرکړیدی۔

[۱۰۰] تیرشوی ایت کښ قدرت د اللّٰه تعالیٰ ذکرکړے شونوپه دے ایت کښ عجزاوضعف دَمخلوقاتو ذکرکوی چه دوی سره دَخزانوملك اواختیارنیشته اوکه بالفرض دَخزانومالکان شی نوخرچ نشی کولے د دے یرے نه چه دا خزانے خوبه خلاصے شی۔ اودا ایت رد دے په هغه چا باندے چه انبیاء اواولیاء اللّٰه دَخزانو اختیار مندګنړی۔ نوپه دے ایت کښ هم دلیل دَتوحید دے۔

[۱۰۱] د دے ایت نه ترآخرد سورة پورے څلورمه حصه ده په دے کښ څلورم سبب دَعذاب ذکرکوی چه هغه استهزاء بالرسل ده اود دے مثال ئے ذکرکړے دے په واقعه د فرعون اود موسیٰ علیه السلام د (۱۰۱) نه تر(۱۰٤) پورے اوبیا ترغیب دے قرآن ته په (۱۰۵،۱۰٦) کښ، بیا دلیل نقلی دے د اهل کتابوسابقینونه (۱۰۷،۱۰۸،۱۰۹) کښ بیا اختتام د سورة دے په (۱۱۰، ۱۱۱) کښ په توحیدسره۔ په دے(۱۰۱) کښ مراد دَایات نه نهه معجزات دَموسیٰ علیه السلام دی چه په سورة اعراف (۱۳۰،۱۳۳) کښ ذکرشوی دی اوبعضے مفسرینود دے نه نهه احکام اراده کړی دی اوهغه په حدیث دَصفوان بن عسال کښ ذکرشویدی لیکن ابن کثیر وئیلی دی چه دا حدیث منکردے اود عبداللّٰه بن سلمة راوی په حفظ کښ نقصان دے۔ اود دے ایت ربط د ماقبل سره دا دے چه فرعون سره اګرچه ډیرے خزانے وے لیکن د هغے په سبب سره د عذاب د اللّٰه تعالیٰ نه بچ نه شونومعلومه شوه چه دے اختیارمند د خزانونه وؤ اوپه هغه باندے د وجے د استهزاء نه په رسول پورے عذاب راغے ﴿مَسْحُوْرًا﴾ پخپله معنیٰ سره دے یا په معنیٰ دَساحردے کله مفعول په معنیٰ دَفاعل سره رائی معجزات دَموسیٰ علیه السلام نورهم ډیروؤلکه چه سورة بقره کښ ذکردی لیکن د فرعون په ژوند کښ غټ معجزات صرف نهه وؤ۔

[۱۰۲] دا خطاب دے د موسیٰ علیه السلام فرعون ته اودلیل دے په دے خبره چه فرعون په زړه کښ حق پیژندلولیکن په ژبه ئے عناداً انکار کوؤلکه سورة نمل(۱٤) کښ دی ﴿مَثْبُوْرًا﴾ هلاك شوے اوناقص العقل او لعنتی۔

مَنْ مَّعَهٗ جَمِیْعًا ﴿١٠٣﴾ وَّقُلْنَا مِنْۢ بَعْدِهٖ لِبَنِیْٓ اِسْرَآءِیْلَ اسْكُنُوا الْاَرْضَ فَاِذَا جَآءَ وَعْدُ الْاٰخِرَةِ جِئْنَا بِكُمْ لَفِیْفًا ﴿١٠٤﴾
وَبِالْحَقِّ اَنْزَلْنٰهُ وَبِالْحَقِّ نَزَلَ ؕ وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا مُبَشِّرًا وَّنَذِیْرًا ﴿١٠٥﴾ وَقُرْاٰنًا فَرَقْنٰهُ لِتَقْرَاَهٗ عَلَى النَّاسِ عَلٰى
مُكْثٍ وَّنَزَّلْنٰهُ تَنْزِیْلًا ﴿١٠٦﴾ قُلْ اٰمِنُوْا بِهٖٓ اَوْ لَا تُؤْمِنُوْا ؕ اِنَّ الَّذِیْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ مِنْ قَبْلِهٖٓ اِذَا یُتْلٰى عَلَیْهِمْ
یَخِرُّوْنَ لِلْاَذْقَانِ سُجَّدًا ﴿١٠٧﴾ وَّیَقُوْلُوْنَ سُبْحٰنَ رَبِّنَآ اِنْ كَانَ وَعْدُ رَبِّنَا لَمَفْعُوْلًا ﴿١٠٨﴾ وَیَخِرُّوْنَ لِلْاَذْقَانِ

دَ دهٗ ملګری ټول (١٠٣) او اُوئیل مونږ روستو دَ (غرقولودَهغه نه) بنی اسرائیلوته اوسیږئ په زمکه کښے پس هر کله چه راشی وعده دَ اخرت راؤلو به تاسو لره غونډ (١٠٤) اوپه حق سره نازلول شروع کړیدی مونږ دَ دے قرآن اوپه حق سره نازل شویدے اونه ئے لیږلے مونږ ته مګر زیرے ورکؤونکے او یره ورکؤونکے (١٠٥) او قرآن مونږ تقسیم کړیدے په حصودے د پاره چه اولولے ته داپه خلقو باندے په دمه دمه او لږ لږ نازل کړیدے مونږ دے په نازلولو سره (١٠٦) ته اُوایه ایمان راوړئ په دے قرآن اوکه ایمان نه راوړئ یقیناً هغه کسان چه علم ورکړے شویدے مخکښے دَ دے نه کوم وخت چه اولوستلے شی په دوی باندے پریوځی په زنو باندے سجده کؤونکی (١٠٧) او دوی وائی پاکی ده دَرب زمونږ یقیناً وعده دَ رب زمونږه خامخا پوره کړے شویده (١٠٨) او پریوځی په زنو باندے

[١٠٣] په دے ایت کښ بل ظلم دَفرعون ذکرشویدے چه هغه هم سبب دَ عذاب شو ﴿فَاَرَادَ﴾ په معنیٰ دَکوشش کولودے اوبیا عذاب ذکرشویدے۔ اوپه دے ایت کښ تصریح ده چه فرعون دَغرق نه بچ شوے نه دے۔

[١٠٤] په دے کښ ذکرد انعام دے په بنی اسرائیلو باندے سرهٗ دَتخویف اخروی نه اومراد دَ ﴿الْاَرْضَ﴾ نه زمکه دَشام اوبیا زمکه دَمصر ده په زمانه دَ داؤد علیه السلام کښ۔ اوپه دے ایاتونوکښ لطیفه اشاره ده چه دا مکے والابه هم دَ دے رسول تکذیب کوی اوبیا به ئیے دَ مکے نه اوشړی لکه چه بنی اسرائیلولره فرعون اوشړل اوبیا به مؤمنان په زمکه دَمدینه اوپه مکه (پس دَ غلبے نه) کښ اباد پاتے شی۔

[١٠٥] په دے کښ ترغیب دے قرآن ته چه نزول دَ قرآن په حق سره شروع شوے دے اوپه حق سره زمکے ته رارسیدلے دے یعنی په مینځ کښ هیڅ تبدیلی نه ده راغلے اوپه دے کښ اشارهٗ تخویف دے یعنی فرعون دَحق انکاراوکړونوعذاب ورباندے راغے نوداموجوده خلق که دَقرآن (چه حق دے) انکاراوکړی نوپه دوی باندے به عذاب راشی۔ اوپه دے کښ صدق دَ رسول هم ذکرشویدے۔

[١٠٦] داهم متعلق دے دَتیرشوی ایت سره او ﴿فَرَقْنٰهُ﴾ کښ مراد دا دے چه تقسیم کړیدے مونږدا قرآن په سورتونواوپه ایاتونوسره چه په خلقو باندے په دمه دمه لوستلے کیږی چه هغوی پرے پوهه شی او ﴿نَزَّلْنٰهُ﴾ کښ اشاره ده چه لږلږنازل کړے شوے دے ﴿وَقُرْاٰنًا﴾ منصوب دے په شرط دَتفسیرسره په مابعد کښ نوفعل دَ دے مناسب پټ دے ﴿فَرَقْنٰهُ﴾ په دے کښ دوه قراء تونه دی یوپه تخفیف اوبل په تشدید سره لیکن غوره دا ده چه دلته مخفف په معنیٰ دَ مشدد سره دے اومرادپه دے سره تقسیم دے ایاتونواوسورتونوته اوپدیکښ جواب دَسوال دَمنکرینودے چه هغوی وئیل چه دا قرآن په یو کرت ولے نه نازلیږی۔

[١٠٧] پس دَبیان دَ صدق دَقرآن نه اودَجواب دَسوال دَ هغوی نه اولاً زجردے منکرینوته اوبیا دلیل نقلی دَ مخکنو کتابیانو نیکانونه اوأذقان نه مراد تندے اومخ دے په ذکردَجزء مجاور اومراد ترینه کل اوپه دے

يَبْكُوْنَ وَيَزِيْدُهُمْ خُشُوْعًا ﴿١٠٩﴾ قُلِ ادْعُوا اللّٰهَ اَوِادْعُوا الرَّحْمٰنَ ؕ اَيًّا مَّا تَدْعُوْا فَلَهُ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى ۚ وَلَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتْ بِهَا وَابْتَغِ بَيْنَ ذٰلِكَ سَبِيْلًا ﴿١١٠﴾ وَقُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ لَمْ يَتَّخِذْ

جاړی دوی او زیاتی کوی دوی لره عاجزی (۱۰۹) ته اُوایه بلنه کوئ دَ اللّٰه تعالیٰ یابلنه کوئ دَ رحمان او هریوچه بلئ تاسو پس هغه لره نومونه خائسته دی اوجهرمه کوه په دُعا خپله او پټ والے مه کوه په هغے سره اوطلب کړه دَ دے په مینځ کښے لار(۱۱۰) اوته اُوایه ټول صفتونه دَ الوهیت خاص اللّٰه تعالیٰ لره دی داسے ذات دے چه نه دے نیولے

کښ زیاتے خشوع ته اشاره ده چه په سجده کښ دَ زیاتے خشوع دَ وجے نه خپلے ګیرے زمکے ته نزدے کوی۔ اوهرکله چه عینِ زنه اوګیره کیخودل په زمکه باندے مرادنه دی دَ دے وجے علی الاذقان ئے نه دے وئیلے ﴿اُوْتُوا الْعِلْمَ﴾ هغه علماؤته وئیلے شی چه په کتاب اللّٰه تعالیٰ باندے تمسك کوی اوعمل کوی شهادت هم دَ هغوی قبلیږی۔

[۱۰۸] دا دلیل دے دَ تسبیح وئیلوپه حال دَسجده کښ۔ یعنی دَ دوی په کتابونوکښ دَآخری رسول په باره کښ پیشنګوئي کړے شوے وه هغے ته ئے وعده اوئیل۔

[۱۰۹] په دے کښ دَدوی نورصفات ذکرکړے شوی دی یعنی ژړا اوزیاته خشوع کول، اوتکرارکښ اشاره ده کثرت دَ سجودته اودَ اولے سجدے سبب اوریدل دَ قرآن دی اودَ دویم محل سجدے کولوسبب بکاء اوخشوع ده یا اول ایت کښ دَ دوی سجده ذکرده اوپه دویم کښ ذکردَسجدے نیشته بلکه روستودَسجدے نه سر ټیټ کړئے دَ ژړادپاره۔ او ایت دلیل دے چه په کتاب دَ اللّٰه تعالیٰ سره په انسان کښ خشوع زیاتیږی اودغه خشوع ایمان دے اوپه ذکردَ دے صفت کښ اشاره ده چه علماؤ دَقرآن لره هم داسے کیفیت پکاردے۔

[۱۱۰] په دے کښ ترغیب دے دُعاته په حال دَ سجده اوحال دَخشوع کښ اوتصریح ده په دے خبره باندے چه دَ دُعا په وخت کښ اسماء حسنیٰ دَ اللّٰه تعالیٰ ذکرکول په طریقه دَ وسیلے سره ضروری دی لکه سورة اعراف (۱۸۰) کښ چه دی او په دے کښ رد دے په شرك فی الدعاء باندے۔

فائده: دا چه خلقو کښ مشهوره ده چه دَ دُعا په وخت وائي اے خدایه دا دَ دے ایت اودَایت دَسورة اعراف نه صریح مخالفت دے دَدے لفظ پریخودل ضروری دی بلکه یا اللّٰه یا رحمان دے وائي یا نوراسماء حسنیٰ ځکه چه لفظ خدا اګر چه معنیٰ ده دَ مالك لیکن تعبد په معانوسره صحیح نه دے اګرچه دَمعنیٰ په لحاظ سره اطلاق ئے په طریقه دَتوصیف اواخباریه اللّٰه تعالیٰ باندے صحیح دے ﴿وَلَاتَجْهَرْبِصَلَاتِكَ وَلَاتُخَافِتْ بِهَا﴾ دَ دے معنیٰ دا ده چه دُعاپه جهرسره مه لوله اوپه زړه کښ پرے هم اکتفامه کوه بلکه په ژبه لوله اواشاره ده چه جهرپه دُعا سره بغیرَ شرعی مواضعونه بدعت دے داسے په سورة اعراف (۵۵) او (۲۰۵)کښ هم دی، اودویمه معنیٰ دا ده چه مراد دَصلاتك نه قرائت دے یعنی قرائت په ټولو مونځونو کښ په جهرمه لوله اوپه ټولوکښ په اخفاء سره مه لوله بلکه بعض په جهراوبعض په اخفاء سره او دارنګ خارج دَ مانځه نه هم قرائت په اوچت آواز سره چه خلق پریشان کوی جائزنه دے اواکتفاء دَ زړه

وَّلَدًا وَّلَمْ يَكُنْ لَّهٗ شَرِيْكٌ فِي الْمُلْكِ وَلَمْ يَكُنْ لَّهٗ وَلِيٌّ مِّنَ الذُّلِّ وَكَبِّرْهُ تَكْبِيْرًا ﴿۱۱۱﴾

ولد (ځوئے) اونیشته هغه لره شریك په بادشاهئ کښے اونیشته هغه لره امدادی دَ وجے دَ کمزورئ نه او لوئی وایه دَهغه لوئی کول(۱۱۱)

په فکر کولوسره فقط داهم نه دی جائز۔

[۱۱۱] په دے آیت کښ امردے په حمد وثیلودَ دُعاسره په اول دَ دُعا کښ اوپه نعمت دَ اختتام دَ دے سورة سره هرکله چه مخکښ ایت کښ دَاللّٰه تعالیٰ صفات ثبوتیه ته اشاره اوکړه په اسماء حسنیٰ سره نواوس په دے ایت کښ صفات سلبیه ذکر کوی اوپه دے ایت کښ رد دے په درے اقسامودَشرك،یوشریك ادنیٰ وی چه هغه ولددے هغه ئے نفی کړوپه دے قول سره ﴿لَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا﴾اودویم شریك مساوی وی هغه ئے نفی کړوپه دے لفظ سره﴿وَلَمْ يَكُنْ لَّهٗ شَرِيْكٌ فِي الْمُلْكِ﴾اودریم قسم شریك اعلیٰ دے په هغے رد دے په دے قول سره چه﴿وَلَمْ يَكُنْ لَّهٗ وَلِيٌّ مِّنَ الذُّلِّ﴾اودا قسم شرك کول په صابئینو مجوسوکښ شته چه هغوی وئیل لولااولیاء ه لذل(العیاذباللّٰه)۔ اودارنګ په دے امت کښ شته چه اولیاء اللّٰه په اللّٰه تعالیٰ شفعاء قهریه یعنی زور ورګنړی اودَ بریلیانوعقیده ده چه عبدالقادر جیلانی ته دستګیردَ دے وجے نه وائی چه (نعوذ باللّٰه تعالیٰ) یوځل ئے دَاللّٰه تعالیٰ مددکړے وو۔اوپه دے ایت کښ اشاره ده چه په مانځه کښ دَ تکبیر اولی نه وړاندے دَ شرك نه برائت ضروری دے۔

سُوْرَةُ الْكَهْف (١٨) مَكِّيَّةٌ (٦٩) بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ اٰيَاتُهَا ١١٠ رُكُوْعَاتُهَا ١٢

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْٓ اَنْزَلَ عَلٰی عَبْدِهِ الْكِتٰبَ وَلَمْ يَجْعَلْ لَّهٗ عِوَجًا ؕ① قَيِّمًا لِّيُنْذِرَ بَاْسًا شَدِيْدًا مِّنْ

ټول صفتونه دَ الوهیت خاص اللّٰه تعالیٰ لره دی هغه ذات دے چه نازل کړیدے په بنده خپل باندے کتاب اونه دے کړځولے دهٔ لره هیڅ کږلیچ (١) پوخ بیان والادے دے دپاره چه یره ورکړی دَ سخت عذاب نه چه دَ

سورة الكهف

اوبل نوم دَ دے الحائله دے۔

دَ دے سورة نه دریمه حصه ده دَ مضامینو دَ قرآن ترسورة سباپورے اوپه دے حصه کښ شپاړس سورتونه دی، په دے کښ مضمون دَ رحمانیت دَ اللّٰه تعالیٰ دے په دوو طریقو سره اوله طریقه اللّٰه تعالیٰ نظام په خپله چلوی چاته ئے نظام نه دے سپارلے یعنی ولد ئے نیشته، لَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا۔ اودا دَ سورة مؤمنون پورے چلیږی اودویمه طریقه داچه برکات ورکوونکے صرف اللّٰه تعالیٰ دے دا دَ سورة مومنون نه ترسبا پورے چلیږی۔

ربط: دَسورة کهف دَسورة اسراء دا دے، سورة اسراء کښ بیان شوچه شرك سبب دَ عذاب دے اودَشرك رد اوشوتفصیلاً په آخر کښ نوپه دے سورة کښ جوابات دی دَشبهاتوپه توحید باندے۔

دعویٰ دَ سورة: دفع دَ شبهاتودَمشرکینوده چه دلیل نیسی په امورخارقه للعادة باندے۔ اومأخذ دَ دے دعوے (لم يجعل له عوجاً)(١) کښ دے یعنی شبهات، او(وينذرالذين قالوا اتخذ اللّٰه ولدا) په (٤) کښ یعنی داسے شخص چه په هغه کښ اثاردَ الوهیت بشکاریږی یعنی قدرت کامله اوعلم غیب۔ اواثبات دَ توحید ئے ذکرکړے دے په رد دَ اقساموشرك سره یعنی شرك فی العلم او فی التصرف اوفی العبادة او فی الدعاء سره په لسوآیاتونوکښ، اوپه ذکرکولودَ شپږاسماؤحسنیٰ سره۔

خلاصه دَ دے سورة: دا سورة تقسیم دے یومقدمے اوځلورو حصوته اویوے خاتمے ته۔

مقدمه: دَ سورة تر(٨) پورے ده په دے کښ دعویٰ دَ توحید ده په الحمدللّٰه سره اواثبات دَ هغے په رالیګلودَ داسے کتاب سره چه شبهات نه لری په (١) کښ بیا مقصد دَکتاب ئے ذکرکړے دے په انذاراوپه بشارت سره (٣،٢) کښ بیا زجردے په عقیده دَاتخاذولد سره چه قرآن دَ دے دَرد دپاره نازل کړے شوے دے (٥،٤) کښ بیا تسلّی دَرسول (٦) کښ بیا تزهید فی الدنیا (٨،٧) کښ اودا مضامین به په سورة کښ تفصیلاً ذکرکیږی۔

تفسیر

[١] په دے آیت کښ دعویٰ دَ توحید په الحمدللّٰه سره ده ځکه چه معنیٰ ئے دا ده ټول صفتونه دَالوهیت (چه قدرت کامله اوعلم غیب دے) خاص اللّٰه تعالیٰ لره دی په دے کښ ورسره هیڅوك شریك نیشته۔ بیا ذکردَ انزال دَکتاب اللّٰه تعالیٰ دے چه په هغے کښ شبهات نیشته، اوشبهات دفع کوی ﴿عِوَجًا﴾ معنیٰ ئے شبهات دی اشاره ده که په توحید کښ دَچاشبه وی یاورته پیش کیږی نودا قرآن دے اولولی۔

لَّدُنْهُ وَيُبَشِّرَ الْمُؤْمِنِيْنَ الَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ الصّٰلِحٰتِ اَنَّ لَهُمْ اَجْرًا حَسَنًا ۙ﴿٢﴾ مَّاكِثِيْنَ فِيْهِ اَبَدًا ۙ﴿٣﴾ وَّ
يُنْذِرَ الَّذِيْنَ قَالُوا اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا ۚ﴿٤﴾ مَا لَهُمْ بِهٖ مِنْ عِلْمٍ وَّلَا لِاٰبَآئِهِمْ ؕ كَبُرَتْ كَلِمَةً تَخْرُجُ مِنْ
اَفْوَاهِهِمْ ؕ اِنْ يَّقُوْلُوْنَ اِلَّا كَذِبًا ۝﴿٥﴾ فَلَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَّفْسَكَ عَلٰٓى اٰثَارِهِمْ اِنْ لَّمْ يُؤْمِنُوْا بِهٰذَا الْحَدِيْثِ
اَسَفًا ۝﴿٦﴾ اِنَّا جَعَلْنَا مَا عَلَى الْاَرْضِ زِيْنَةً لَّهَا لِنَبْلُوَهُمْ اَيُّهُمْ اَحْسَنُ عَمَلًا ۝﴿٧﴾ وَاِنَّا لَجٰعِلُوْنَ مَا

هغه دَطرف نه دے اوزیرے ورکړی مؤمنانو لره هغه کسان چه عملونه کوی دَ سنت برابر چه یقیناً دوی لره ثواب دے خائسته (٢) دیره به وی په هغے کښے همیشه (٣) او یره ورکړئ هغه کسانو ته چه وائی نیولے دے اللّٰه تعالیٰ ولد (٤) نیشته دوی لره په دے باندے هیڅ علم اونه پلارانو دَ دوی لره ډیره لویه خبره ده (په ناکار والی کښے) چه رااوځی دَ خولو دَ دوئ نه دوی نه وائی مګر دروغ (٥) پس ایا ته وژنے ځان خپل په دوی پسے که چرے دوی ایمان نه راوړی په دے خبره (دَ توحید) دَ غم دَ وجے نه (٦) یقیناً ګرځولی دی مونږ هغه څه چه په زمکه باندے دی ډول دَ زمکے د پاره دَ دے چه دَ دوی ازمائش اوکړو چه کوم یو خائسته عمل والا دے (٧) او یقیناً مونږ ګرځوو به هغه څه

[٢] ﴿قَيِّمًا﴾ مضبوط مضمون والادے یعنی توحید په دلیلونو سره کلکوی اومؤحد لره په توحید باندے مضبوطوی، اوبیا ئے حکمت دَ انزال قرآن ذکرکړے دے چه انذاراوتبشیردے۔ دَ انذاردَپاره منذراومنذر لهم اومنذرعنه دریے واړه ضروری دی اودارنګ دَبشارت دَپاره مبشر، مبشرلهم اومبشربه ضروری دی نوپه ضمیردَ لِيُنذر کښی چه کتاب یاعبدته راجع دے اشاره ده منذرته، اوپه ﴿بَأْسًا شَدِيْدًا﴾ سره ذکردَمنذرعنه دے اومنذرلهم به روستوذکرکوی اوپه ضمیردَیبشرکښی اشاره ده مبشرته چه کتاب دے یاعبد دے اوالمؤمنین اه۔ سره مبشرلهم ذکرکړے شوے دے او ﴿اَنَّ لَهُمْ اَجْرًا حَسَنًا﴾ سره مبشربه ذکرکړے دے اوپه دے آیت کښی تخویف اوبشارت دے۔

[٣] دا متعلق دے دَ بشارت سره او دوام دَ جنت ته اشاره ده۔

[٤] پدے ایت کښی منذرلهم ذکرکړل۔ اواشاره ده چه قرآن دَ هغه چا دَ رد دپاره دے چه عقیده دَاتخاذ ولدلری اودَ ولد نه مراد دَ مشرکانوثابتول دَ داسے ذات دی چه هغه لره اللّٰه تعالیٰ دَخپلوصفاتوخاصۀونه څه حصه ورکړے وی نوپه هغے کښی دَ الوهیت اثاربشکاریږی اودَ دے وجے نه هغه لره بندګی کول هم لازم ګنړی او حاجت پوره کوونکے ئے ګنړی لکه چه په ولد کښی اثاردَوالد بشکاره کیږی اودَ هغه نائب وی۔

[٥] په دے ایت کښی تقبیح دَ دغے عقیدے ئے ذکرکړے ده چه دابے دلیله خبره ده اودَخبرے اوعقیدے دپاره دا قباحت پوره دے چه دلیل پرے موجود نه وی صرف دَ اباؤتقلیدکوی، بیا شبه راغله که په دے خبره څه دلیل نیشته دے لیکن خیردے معمولی خبره ده څه پرواه نیشته نوجواب اوشو ﴿كَبُرَتْ كَلِمَةً تَخْرُجُ مِنْ اَفْوَاهِهِمْ﴾ یعنی دا خبره ډیره غټه قبیحه ده چه دَ دوی دَ وړوخلونه را اوځی بے دلیله بیا دَ دے قباحت دلیل دا دے چه ﴿اِنْ يَّقُوْلُوْنَ اِلَّا كَذِبًا﴾ یعنی په دے خبره کښی سیوادَ دروغونه بل هیڅ نیشته۔

[٦] په دے کښی تسلی ده نبی ﷺ ته چه دَ دے منکرینودَ انکارپه سبب دومره خفګان مه کوه چه دَغم دَ وجے نه ځان وژنے لَعَلَّ دَپاره دَ استفهام انکاری دے اودارنګ په سورة شعراء (٣) اوسورة فاطر (٨) کښی هم دی۔

عَلَيْهَا صَعِيْدًا جُرُزًا ۝٨ اَمْ حَسِبْتَ اَنَّ اَصْحٰبَ الْكَهْفِ وَالرَّقِيْمِ كَانُوْا مِنْ اٰيٰتِنَا عَجَبًا ۝٩ اِذْ اَوَى

چه په زمکه دی میدان (صفا) خویه (۸) ایا ته ګمان کوے چه غار والا او رقیم والا وؤ دلیلونه (دَ توحید) ځمونږه ډیر عجیبه (۹) کله چه پناهی واخسته

[۸،۷] په دے دواړو ایاتونو کښ تزهید فی الدنیا دے یعنی دَ دوی دَنه منلووجه دَ دنیا محبت دے لیکن دا دنیا اودَ دے سامانونه دَ لږو ورځو زینت دے اوابتلاء ده اوزر فناکیدونکے دے نوپه دے باندے مه دهوکه کیږئے ﴿زِيْنَةً﴾ په دے سورة(٤٦) کښ هم ذکرشویدے اورسول اللّٰهﷺ دَ هغے تفسیرکړے دے په حَضِرَهٗ حُلوَهٗ سره یعنی سترګے پرے خوشحالیږی اوځُله کښ صرف خوند پیداکوی ﴿لِنَبْلُوَهُمْ﴾ یعنی زینت دَ دنیا دَابتلاء اودَ امتحان دَپاره دے اوامتحان دوه قسمه وی، اول قسم هغه چه دَهغے فائده ممتحن ته اورسیږی یعنی هغه ته حقیقت حال معلوم شی۔ اودویم قسم هغه دے چه دَهغے فائده امتحان ورکوونکی ته اورسیږی یعنی ممتحن دَځان دَحال نه خبرنه وی بلکه خیال کوی چه ځه لائق یم اوپه کامیابئے کښ یم نوپه امتحان سره هغه ته حقیقت حال څپل معلوم شی اودَ اللّٰه تعالیٰ امتحان په مخلوق باندے دویم قسم دے دا دَ دے وجے نه چه بلا ییلوا په معنیٰ دَحقیقت بنکاره کیدلودے لکه یونس(۳۰)کښ نو﴿لِنَبْلُوَ﴾ اصل معنیٰ دا ده چه اوښایومونږدوی ته حقیقت حال دَ دوی ﴿اَحْسَنُ عَمَلًا﴾ دارنګ په سورة هود (۷) اوسورة ملك (۲)کښ هم دی اوتشریح دَ دے په تفسیردَسورة هود کښ تیره شویده۔ او ایت (۸)کښ صعیداً جرزاً اشاره ده فنا دَ دے سامان دَ دنیا ته۔ اودا لفظ په طریقه دَتشبیه سره دے یعنی دَ دنیاتمام ځیزونه چه فناشی نوزمکه به داسے شی لکه شارمیدان چه ټول بوټی ترینه پرے کړے شوی وی۔

[۹] دَ دے ایت نه اوله حصه شروع ده تر ایت (٤٩) پورے۔ خلاصه تفصیلی ئیے دا ده چه په دے کښ جواب دَشبهے دَ مشرکانو دے چه دلیل نیسی په امورخارقه للعادة دَ اصحاب کهفوچه دَ دغه امورونه معلومیږی چه اصحاب کهف خاوندان دَ لوئے قدرت وو، حاصل دَجواب دا دے چه دغه احوال دلیلونه دَ قدرت دَاللّٰه تعالیٰ دی نه دَقدرت دَهغوی په ایت (۹)کښ ځکه چه دوی اللّٰه تعالیٰ ته محتاج وواوعاجزی کوونکی ووپه ایت (۱۰)کښ، اومحتاج وو اودهٔ کیدلوته په ایت (۱۱) کښ، اومحتاج وو اللّٰه تعالیٰ ته دَخوب نه په پاځیدلوکښ په ایت (۱۲)کښ، اومحتاج وو په زیاتوالی دَ هدایت کښ په (۱۳)کښ، اومحتاج ووپه ربط قلب کښ اللّٰه تعالیٰ ته او ردکوونکی ووپه شرك باندے په ایت (١٤) او (١٥)کښ، اوځان ئیے جداکړے وودَمشرکانونه په امید دَ رحمت دَ اللّٰه تعالیٰ په ایت (١٦)کښ، بیاذکردَکرامتونودَ دوی دے سرهٔ دَ احتیاج نه اللّٰه تعالیٰ ته په ایت (۱۸،۱۷)کښ، اوذکردَعدم علم دَ دوی دے په غیب باندے په ایت (۲۰،۱۹)کښ بیا ذکردَحال دَ دوی دے دلیل دَپاره دَبعث بعد الموت نه اوزجرهغه چاته چه تنازع ئیے کوله په باره دَ دوی کښ اوزجریه مسجد جوړولوسره دَ دوی په خواکښ په ایت (۲۱)کښ، اوزجریه اختلاف کولوسره په عدد دَ دوی کښ بیا تعلیم ورکول نبیﷺ ته دَ ادابوشپږو په ایت (۲۲،۲۳،۲٤)کښ، اوذکردَ بعث دَ دوی په غارکښ په ایت (۲۵)کښ، بیا تفریعات ځلوردَ دوی په واقعه باندے او دا اداب هم دی، اوله تفریع او ادب په رد دَ شرك فی العلم او فی الحکم په ایت (۲٤)کښ،

الْفِتْيَةُ إِلَى الْكَهْفِ فَقَالُوا رَبَّنَا آتِنَا مِن لَّدُنكَ رَحْمَةً وَهَيِّئْ لَنَا مِنْ أَمْرِنَا رَشَدًا ﴿١٠﴾ فَضَرَبْنَا

ځوانانو غارته پس دوی اُوئیل اے ربه زمونږ راکړے مونږ ته خپل طرف نه کلك والے او اسانه کړے مونږ ته زمونږ دَ دے کار نه کامیا بی(۱۰) پس ټپول او کړه مونږ

دویمه تفریع اوادب تبلیغ دَکتاب اللّٰه په (۲۷) کښ، او دریمه تفریع اوادب اختیارول دَجماعت دَموٗحدینو په ایت (۲۸) کښ، اوځلورمه اظهاردَحق په تخویف اخروی اوپه بشارت سره په (۲۹، ۳۰) کښ، بیا اصلاح دَ منکرینودَپاره دَ تزهید فی الدنیا په ذکر دَ دریوخبرو، اول دا ده چه محبت دَدنیا سبب دَانکاردَ بعث اودَ شرك دے اوسبب دَعذاب دنیوی دے اودا دَ (۳۲) نه تر(٤٠) پورے، اودویمه خبره دا ده چه دنیا قلیل اوفانی ده پس په دے باندے مه دهوکه کیږئے په ایت (٤٥، ٤٦) کښ، اودریمه خبره دا ده چه محبت دَ دنیا سبب دَ عذاب اودَ افسوسونودے په اخرت کښ په ایت (٤٧، ٤٨، ٤٩) کښ۔

تفسیر: په دے ایت (۹) کښ اولاً تسلّی ده پیغمبرته اومطلب دا دے چه داګمان مکوه چه واقعه دَ اصحاب کهفودَ قدرت دَاللّٰه تعالیٰ نه څه ډیره عجیبه ده ځکه چه مشرکینودَ دے په باره کښ ستانه تپوس کړے دے بلکه دَ اللّٰه تعالیٰ دَ قدرت نښے دَ دے نه لوئے هم شته لکه پیدائش دَ اسمانونواودَ زمکواوواقعه دَمعراج اوپه دے کښ جواب دَشبهے دَمشرکینودے چه هغوی استدلال کوو په عجیبه حالاتودَ اصحاب کهفو لکه چه ډیره موده اوده کیدل اوبدنونوته ئے څه نقصان نه رسیدودا دلالت کوی په دے خبره چه اصحاب کهف لره دَ اللّٰه دَ طرف نه لوے قدرت اواختیار ورکړے شوے دے نوجائزدی مونږ لره چه دَ دوی نه خپل حاجات اوغواړواودوی له بندګی کوو ځکه چه دوی پشان دَ ولدشول دَ اللّٰه تعالیٰ دَپاره دارنګ اوس هم بعض تعویذګردَ دوی نومونه په کاغذ کښ لیکی دَپاره دَتبرك حاصلولو؟ نوحاصل دَجواب دا دے چه داحالات دَاصحاب کهفوخو دلیل دَ قدرت دَ اللّٰه تعالیٰ دے نه دَ قدرت دَ هغوی ﴿الرَّقِيمِ﴾ په دیکښ اقوال مختلفه دی۔ چه دا دَ وادئ نوم دے یادَ هغه عزیزنوم دے یادَکتاب نوم دے یعنی هغه تختے چه په هغے کښ نومونه دَهغوی لیکلے شوی دی لیکن هیڅ یوقول په نقل صحیح مسند سره نه دے ثابت نومعلومه شوه چه دا تاریخی مسئله ده اودَ تاریخ نه دا ثابت ده چه کلے دَ اصحاب کهفوپه ملك دَ روم کښ مشهوردے په رقیم سره اوداسے دَابن عباس رضی اللّٰه عنهما نه نقل دے او هغه دَکعب نه نقل کړے دے اوپه روم کښ هغے ته پیټرا وائې او کله چه مسلمانانو روم فتح کړو نوهغه ئے مسمّٰی کړوپه بطراء سره اوپه مخکنوکتابونوکښ مسمّٰی ووپه راقیم سره او دارنګ دَ تاریخ نه معلومیږی چه دا واقعه په ملك دَ روم کښ وه روسته دَ زمانے دَ عیسیٰ علیه السلام نه۔

[۱۰] په دے آیت کښ عجزدَ اصحاب کهفوذکردے په هجرت کولوسره غارته اوبیا دعاء دَ هغوی ذکرده په طلب دَ رحمت اودَ رُشد سره اوداپه دین دَ نصرانیت کښ (په یو قول سره) جائزده چه رهبانیت اختیار کړی اوغارکښ ژوند تیروی۔

فائده: دا دلیل دے په دے خبره چه هجرت کول دَپاره دَ حفاظت دَ دین په وخت دَ خوف دَ فِتنوکښ دا سنت دَ اولیاؤ اوانبیاؤ دے اودا غارته تلل دَ دوی دلیل دَ هغه پیرانودَپاره نه شی کیدے چه بغیرځه دَیرے دَ فتنے

عَلٰٓى اٰذَانِهِمْ فِى الْكَهْفِ سِنِيْنَ عَدَدًا ﴿١١﴾ ثُمَّ بَعَثْنٰهُمْ لِنَعْلَمَ اَىُّ الْحِزْبَيْنِ اَحْصٰى لِمَا لَبِثُوْٓا
اَمَدًا ﴿١٢﴾ نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ نَبَاَهُمْ بِالْحَقِّ ۭ اِنَّهُمْ فِتْيَةٌ اٰمَنُوْا بِرَبِّهِمْ وَزِدْنٰهُمْ هُدًى ﴿١٣﴾ وَّرَبَطْنَا

په غوږونو دَهغوی په غار کښے یو څو کلونه دَشمار (۱۱) بیا رابیدار کړل مونږ دوی دپاره دَ دے چه ښکاره کړو مونږ چه کوم یو دَ دواړو ډلو شمار کوی دَهغه مودے چه دوی حصار شویؤو په غار کښے (۱۲) مونږ بیانؤو په تاباندے خبر دَ دوی دَحق ښکاره کولو دپاره یقیناً دوی ځوانان ووایمان ئیے راوړے ؤو په رب خپل باندے او زیاتی کړے ؤو مونږ هدایت دَ دوی (۱۳) اوکللك کړی ؤو مونږ

اودَ فسادنه په غارونوکښ چیلے اوباسی اودعوت دَ دین اوجماعت دَ صلوت سرهٔ دَ قدرت اودَ طاقت نه پریږدی۔

[۱۱] په دے آیت کښ احتیاج دَاصحاب کهف اللّٰه تعالیٰ ته په خوب راوستلوکښ ذکرکړے دے۔ یعنی هرکله چه دوی دَ دین په دعوت ستړی شوی وونواللّٰه تعالیٰ دوی له آرام ورکړوپه خوب سره اوآذان ئیے ذکرکړوځکه چه کمال دَ خوب هله رائحی چه غوږونه دَ خبرو اوریدلونه بندشی اودارنګ په دے کښ اشاره ده چه دا اوده کول شفقت دَ اللّٰه تعالیٰ ووپه دوی باندے لکه څنګه چه موږدَ شفقت دَوجے نه دَبچی غوږونه ټپوی په وخت دَ اودهٔ کولوکښ۔

[۱۲] په دے کښ ئیے ذکرکړے دے احتیاج دَ اصحاب کهف اللّٰه تعالیٰ ته په بیداریدلوکښ دَخوب نه، اوپه دے وجه په حدیث کښ دَخوب نه دَبیدارئ په دُعاکښ دا الفاظ نقل کړے شوی دی (الحمدللّٰه الذی احیانا بعد ما اماتنا) اوپه دے آیت کښ یوحکمت دَبیدارولودَ هغوی ذکرکړے دے ﴿لِنَعْلَمَ﴾ مراد دَعلم نه علم دَ اظهار دے یعنی لنظهرځکه چه نورونصوصو قطعیوسره ثابته ده چه اللّٰه تعالیٰ په هرشے عالم دے۔ ﴿اَلْحِزْبَيْنِ﴾ دَ دوی نه مراد هغه دوه ډلے وے په اصحاب کهف کښ چه روستودَ بیدارئ نه یوډلے وئیلی وولَبِثْنَا یَوماً اوبلے ډلے وئیلی ووَاوبَعضَ یَومٍ اودا قول غوره دے نوحاصل دا دے چه ښکاره شوه دا خبره چه دا دواړه ډلے دَ خپلے مودے دَخوب نه خبرنه وونومعلومه شوه چه غیبدان نه وو۔

[۱۳] تیرشوی آیاتونوکښ دَ اصحاب کهف عجزاواحتیاج اوعدم دَعلم غیب ئیے ذکرکړودَپاره دَجواب دَ شبهے۔ اوس په دے آیت کښ تفصیل دَنورو حالاتودَ هغوی ذکرکوی په باره دَ دیانت اودعوت دَهغوی کښ ﴿بِالْحَقِّ﴾ کښ اشاره ده چه دے واقعه کښ قرآن کریم رشتینی حالات ذکرکړی دی۔ په خلاف دَ یهودیانوچه هغوی پکښ ډیر اسرائیلیات ذکرکړی دی اودارنګ اشاره ده دَحق دَاظهاردَپاره (چه هغه اثبات دَ توحید اورد دَشرك دے) دَ دوی واقعه ذکرکوی ﴿فِتْيَةٌ﴾ دَ دے معنیٰ دا ده چه دَعمرپه لحاظ سره نوعمرځوانان وو او اولاد ووَدَ اشرافودَ قوم خپل اودَ دوی غاړوته طوقونه دَ سرو زرو اولا سونوته کړئ دَسروزروپراتهٔ وواوپه غوږونوکښ ئے والئے وے بِناپه عادت دَهغه قوم سره اوهرکله چه دَ دوی نه پلاران په مسئله دَتوحید ناراض شول نودَ دوی نه ئیے دغه کالی واخستل۔ اوتفسیرابن کثیر کښ ذکردی چه اکثراولیاء اللّٰه نوجوانان خلق وی او زارهٔ عمر والا اکثر دَ قبول دَحق نه محروم وی ﴿وَزِدْنٰهُمْ هُدًى﴾ دلیل دے په دے خبره باندے چه په هدایت اوایمان کښ زیاتے اوکمے رائحی۔ اواشاره ده چه دَ

عَلٰى قُلُوْبِهِمْ اِذْ قَامُوْا فَقَالُوْا رَبُّنَا رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ لَنْ نَّدْعُوَا مِنْ دُوْنِهٖٓ اِلٰهًا لَّقَدْ قُلْنَآ اِذًا شَطَطًا ﴿١٤﴾ هٰٓؤُلَآءِ قَوْمُنَا اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ اٰلِهَةً ؕ لَوْلَا يَاْتُوْنَ عَلَيْهِمْ بِسُلْطٰنٍۢ بَيِّنٍ ؕ فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا ﴿١٥﴾ وَاِذِ اعْتَزَلْتُمُوْهُمْ وَمَا يَعْبُدُوْنَ اِلَّا اللّٰهَ فَاْوٗٓا اِلَى الْكَهْفِ يَنْشُرْ لَكُمْ رَبُّكُمْ مِّنْ رَّحْمَتِهٖ وَيُهَيِّئْ لَكُمْ مِّنْ اَمْرِكُمْ مِّرْفَقًا ﴿١٦﴾ وَتَرَى الشَّمْسَ اِذَا طَلَعَتْ تَّزٰوَرُ عَنْ

زړونه ډهغوی کله چه او دریدل پس اُوئیل دوی رب زمونږ رب د آسمانونو او ځمکے دے هیڅړے به اونه بلو مونږ سیوا د اللّٰه تعالیٰ ته بل مددګار یقیناً وئیلی به وی مونږ په دغه وخت د حدنه تیره شوے خبره (١٤) داقوم زمونږ دے نیولی دی دوی سیوا د اللّٰه تعالیٰ نه نور مددګاران ولے نه راوړی پدے باندے دلیل ښکاره پس څوك لوئے ظالم دے ډهغه چانه چه جوړوی په اللّٰه تعالیٰ باندے دروغ (١٥) اوهرکله چه ډ ډه اوکړه تاسو د دوی نه او ډهغه چانه چه دوی ئے بندګی کوی سیوا د اللّٰه تعالیٰ نه پس پناهی واخلئ غارته ډیر فراخه به درکړی تاسوله رب ستاسو د رحمت خپل نه او اسانه به کړی تاسو لره د دے کار ستاسو نه فائدے ډیرے (١٦) او وینے ته نمر کله چه راخیژی نو اوړی د

دعوت الی الحق دَپاره زیات ایمان اوهدایت ضروری دے۔

[١٤] په دے آیت کښ ذکرشوے دے احتیاج د دوی اللّٰه تعالیٰ ته په ربط قلب کښ۔ اوربط قلب حال د قوت صبردے چه معلومیږی په وخت دَسختومصیبتونوکښ اودا د اللّٰه تعالیٰ دَطرف نه یوکرامت وی دَصالحینوبندګانودَپاره لکه سورة قصص (١٠) کښ، اومقابل د دے ختم قلب دے چه د عِنادیانودَپاره آخری مقام دے ﴿قَامُوْا﴾ بادشاه مشرك وو هغه چه دوی نه خبرشونودوی ئیے ځان ته حاضرکړل اود دوی نه ئے یوځوسوالونه په ترتیب سره اوکړل۔ اول سوال۔ ستاسورب څوك دے؟ دوی جواب اوکړو ﴿رَبُّنَا رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ﴾ دویم سوال۔ د دغه رب نه سیوا څوك د بلنے اورا مددکولوحق دارشته دے؟ دوی جواب اوکړو ﴿لَنْ نَّدْعُوَا مِنْ دُوْنِهٖٓ اِلٰهًا﴾ په اول کښ توحیددَربوبیت دے اوپه دویم کښ توحید د الوهیت دے۔ دریم سوال۔ که څوك د اللّٰه تعالیٰ نه سیوا د بل چانه حاجت غواړی نودَ دے څهُ حکم دے؟ دوی جواب اوکړو ﴿لَقَدْ قُلْنَآ اِذًا شَطَطًا﴾ شطط دَحدنه تجاوزکول، باطل اودروغ دیته شطط وائي۔

[١٥] داهم د هغوی په بیان کښ داخل دے یعنی څلورم سوال دے۔ چه تاسودَخپلومشرانونه ولے مخالفت کوئے؟ دوی جواب اوکړو ﴿لَوْلَا يَاْتُوْنَ عَلَيْهِمْ بِسُلْطَانٍۢ بَيِّنٍ﴾ یعنی مشران دے په الوهیت دَغیراللّٰه دلیل پیش کوی پنځم سوال که د مشرانوبے دلیله تابعداری اوکړ ئیے نوڅه جرم دے؟ جواب دا دے ﴿فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا﴾ یعنی دا ډیرلوئے ظلم دے۔ د دے نه لوئے ظلم بل څه کیدیشی۔

[١٦] هرکله چه بادشاه دوی ته مهلت ورکړو نو دوی دَپلارانواودَخپلونه جداشول اوپوهه شول چه بادشاه مونږخپل دین ته اړوی، یا مونږسنګسارکوی لکه آیت (٢٠) کښ دا ذکرشوے ده نودَ خپل دین دَبچ کولودَپاره دوی مشوره اوکړه د هجرت کولوغارته ﴿وَمَا يَعْبُدُوْنَ اِلَّا اللّٰهَ﴾ ئے ځکه اُوئیل چه جدا کیدل دَقوم نه د دُنیاپه مقصد باندے نه ووبلکه دَتوحیدپه سبب سره وو۔ اوپه دے آیت کښ اشاره ده چه مهاجردَپاره د اللّٰه تعالیٰ په رحمت باندے توکل پکاردے۔ اومرا د د رحمت نه بچ سائل دی د قوم نه لکه

كَهْفِهِمْ ذَاتَ الْيَمِيْنِ وَ اِذَا غَرَبَتْ تَّقْرِضُهُمْ ذَاتَ الشِّمَالِ وَهُمْ فِيْ فَجْوَةٍ مِّنْهُ ؕ ذٰلِكَ مِنْ
اٰيٰتِ اللّٰهِ ؕ مَنْ يَّهْدِ اللّٰهُ فَهُوَ الْمُهْتَدِ ۚ وَمَنْ يُّضْلِلْ فَلَنْ تَجِدَ لَهٗ وَلِيًّا مُّرْشِدًا ﴿۱۷﴾ وَتَحْسَبُهُمْ اَيْقَاظًا ع ۱۶
وَّهُمْ رُقُوْدٌ ۛ وَّنُقَلِّبُهُمْ ذَاتَ الْيَمِيْنِ وَ ذَاتَ الشِّمَالِ ۛ وَكَلْبُهُمْ بَاسِطٌ ذِرَاعَيْهِ بِالْوَصِيْدِ ؕ لَوِ
اطَّلَعْتَ عَلَيْهِمْ لَوَلَّيْتَ مِنْهُمْ فِرَارًا وَّلَمُلِئْتَ مِنْهُمْ رُعْبًا ﴿۱۸﴾ وَكَذٰلِكَ بَعَثْنٰهُمْ لِيَتَسَآءَلُوْا بَيْنَهُمْ ؕ قَالَ

غار دَهغوی نه ښی طرف ته او کله چه ډوبیږی نو ډه کوی دَ دوی نه ګس طرف ته او دوی په ارت
ځائے کښے دی دَ دے غارنه دا حال دَ دوی دَ دلیلونو دَ قدرت دَ اللّٰه تعالیٰ نه دے هغه څوك چه هدایت
ورته اوکړی اللّٰه تعالیٰ پس هغه هدایت والادے او هغه څوك چه اللّٰه تعالیٰ بے لارے کړی هغه پس
هیڅرے به اونه مومے هغه لره دوست لارخودونکے(۱۷) او ګمان به کوے ته په دوی باندے بیدار
اودوی اوده دی او اړؤو را اړؤو مونږ دوی لره ښی طرف ته او ګس طرف ته اوسیے دَ دوی خور
ژونکے دے دواړه لیچے په درشل باندے که چرے ناساپه وربنکاره شے دوی ته نو اوبه ګرځے دَ دوی نه
تیخته کژونکے او ډك به شے دَ دوی نه په رعب سره (۱۸) او دغه شان بیدارکړه مونږ دوی دَ دے دپاره
چه تپوسونه اوکړی په کورنیۍ کښ اُوئیل

چه داسے شوی وو په غارثورکښ په وخت دَ هجرت دَ نبی ﷺ ﴿وَيُهَيِّئْ لَكُمْ﴾ کښ اشاره ده چه روستودَ
تکالیفونه اللّٰه تعالیٰ اسانتیا او ارام راولی۔

[۱۷] په دے ایت کښ دَ غارحال ذکرشوے دے چه اللّٰه تعالیٰ دوی لره په غارکښ دَغرمونه څنګه
محفوظ اوساتل (یعنی غارمه دَ دوی نه ښی طرف اوګس طرف ته اوړیدل) ﴿ذٰلِكَ مِنْ اٰيٰتِ اللّٰهِ﴾ دا دلیل
دے چه دا دَ دوی کرامت وو اوکرامت دلیل دَقدرت دَاللّٰه تعالیٰ دے اومعلومه شوه چه اصل کرامت حفاظت
دَاللّٰه تعالیٰ ولی اللّٰه لره وی اومعلومه شوه چه کرامت په دعوت دَحق اوپه هجرت سره حاصلیږی۔ دا قول دَ
دے ایت په تشریح کښ صحیح دے۔ اوبعضومفسرینو وئیلی دی چه دَغار وضع په داسے طریقه سره وه چه په
دوی باندے غارمهٔ نه لګیدل یعنی شمال طرف ته دَهغے دروازه (څُله) وه دا صحیح نه ده ﴿تَقْرِضُهُمْ﴾ کښ
اشاره ده چه دَغروب په وخت نمرپه دوی باندے لږشان لګیدلوځکه چه په لږنمرلګیدلوسره اصلاح دَ بدن
راځی اودا دَ دے وجے نه چه تَقرِضُهُم دَقراضة الذهب نه ماخوذ دے یعنی ټکړے ﴿مَنْ يَّهْدِ اللّٰهُ﴾ اشاره ده چه
اصحاب کهف ته هدایت اوکړے شواونورقوم په شرك کښ پاتے وؤدا اختیاردَاللّٰه تعالیٰ دے۔ یا په دے واقعے
سره چاته هدایت ملاویږی اوچاته نه ملاویږی دا هم دَ اللّٰه تعالیٰ اختیار دے۔

[۱۸] په دے آیت کښ دَاصحاب کهف بل حال ذکرکوی دَغاردَ اوسیدلوپه وخت کښ اوپه دے
کښ هم مقصد حفاظت دَ بدَنونو دَ هغوی دے دَخاورونه اودارنګ دَسپی په ذریعه حفاظت دَخلقودَ
شوروشغب نه چه دَخوب نه بیدارنهٔ شی ﴿وَنُقَلِّبُهُمْ﴾ دا علت دے دَ ایقاظاً دَپاره یعنی په دوی باندے دَ
بیدارانو ګمان په دے وجه سره کیږی چه دَ دوی ډډے زړ زړ بدلیږی لکه دَبیدارشخص په شان۔ داوجه چه
مفسرینولیکلے ده چه سترګے دَ دوی په وخت دَخوب کښ پرانستے وے دَ دے قول ضرورت هم نیشته
اودلیل هم نیشته ﴿وَكَلْبُهُمْ بَاسِطٌ ذِرَاعَيْهِ بِالْوَصِيْدِ﴾ دا سپے دَ مؤحدینو خدمتګارروو نواللّٰه تعالیٰ په دے

قَآىِٕلٌ مِّنْهُمْ كَمْ لَبِثْتُمْ ؕ قَالُوْا لَبِثْنَا يَوْمًا اَوْ بَعْضَ يَوْمٍ ؕ قَالُوْا رَبُّكُمْ اَعْلَمُ بِمَا لَبِثْتُمْ ؕ فَابْعَثُوْٓا اَحَدَكُمْ بِوَرِقِكُمْ هٰذِهٖٓ اِلَى الْمَدِيْنَةِ فَلْيَنْظُرْ اَيُّهَآ اَزْكٰى طَعَامًا فَلْيَاْتِكُمْ بِرِزْقٍ مِّنْهُ وَلْيَتَلَطَّفْ وَلَا يُشْعِرَنَّ بِكُمْ اَحَدًا ﴿١٩﴾ اِنَّهُمْ اِنْ يَّظْهَرُوْا عَلَيْكُمْ يَرْجُمُوْكُمْ اَوْ يُعِيْدُوْكُمْ فِيْ مِلَّتِهِمْ وَلَنْ تُفْلِحُوْٓا اِذًا

یوویونکی دَ دوی نه څومره حصار شویوئ تاسو دوئ اُوئیل حصار شوی یو پوره ورځ یا نیمګړې ورځ دوی اُوئیل رب ستاسو ښه پوهه دے په هغه موده چه حصار شویوئے تاسو پس اولیږئ تاسو یو تن لره پدے پیسو ستاسو سره ښارته پس اودے ګوری چه کوم یو دَ دوی نه پاك (حلال) خوراك والادے پس رادِوړی خوراك دَ هغه نه اونرمی دِ کوی اونه دے خبروی په تاسو باندے هیڅ څوك (۱۹) یقیناً دوی که خبرشی په تاسو باندے سنګسار به کړی تاسو یابه مو واپس اوګرځوی دین خپل ته اوهرګز به کامیاب نشئ دغه وخت

سبب دَ دهٔ مقام اوچت کړو اوقرآن کښ ئے ذکرکړو۔ اوپه دے کښ اشاره ده چه سپے دَ څوکیدارئ دَپاره ساتل جائز دی۔اودارنګ اشاره ده چه سپے په داخل دَکورکښ ساتل نه دی جائزبلکه دَ دروازے سره دے وی﴿لَوَلَّيْتَ مِنْهُمْ فِرَارًا﴾ داهم کرامت دے چه اللّٰه تعالیٰ هغوی له داسے رعب ورکړے وو چه څوك نزدے نه شو ورتللے۔

[۱۹] په دے آیت کښ دَ اصحاب کهف بیدارول دَخوب نه ذکردی اودَ هغے حکمت ئے ذکرکړے دے دَهغے تفصیل دا دے چه دَدوی بیدارولوکښ حکمت دا دے چه دوی به دَیوبل نه تپوسونه اوکړی چه مونږ څومره وخت تیرکړے دے اوفائده په تپوسونوکښ دا ده چه معلومه شی چه دوی دَخپل حال نه خبرنه وؤ نودَ دنیا دَحال نه څرنګه خبرشی نودوی دَ اللّٰه تعالیٰ سره شریك نشی کیدلے نودے آیت کښ صریح دلیل دے چه اولیاء په غیب باندے نه پوهیږی اوپه حال دَ خوب کښ دَځان نه هم خبرنه وی نوپس دَمرګ نه دَ دنیا دَحال نه به څه خبراولری ﴿قَالُوْا لَبِثْنَا﴾ یعنی دوی دَشمارپه باره کښ دوه ډلے شوے یوډلے اُوئیل چه یو ورځ تیره شوے ده اودویمے ډلے اوئیل چه څه حصه دَ ورځے تیره شویده نودریمے ډلے اُوئیل یادوی په جمع سره اُوئیل چه دَ دے علم مونږسره نیشته اللّٰه تعالیٰ ته ئے اوسپارله ﴿بِوَرِقِكُمْ﴾ اشاره ده چه دوی دَځان سره دَ خرچ دَپاره دَسپینوزرو روپئے اخستے وے﴿فَابْعَثُوْٓا اَحَدَكُمْ﴾کښ اشاره ده چه په دوی باندے روستودَ بیدارئے نه لوګه راغله نودَخوراك دَ اخستلودَپاره تدبیر ئے اوکړواویوکس ئے دَ دے دَپاره مقرر کړواوهغه ته ئے درے اداب اوخودل اول ﴿فَلْيَنْظُرْ اَيُّهَآ اَزْكٰى طَعَامًا﴾ یعنی دَ مؤحد نه دے طعام راوړی ځکه دوی ته معلومه ده چه په دغه کلی کښ بعض خلق داسے دی چه دَ هغوی مذبوحه اوطعام په نوم دَغیراللّٰه سره دے اوهغه حرام دے اودویم ادب ﴿وَلْيَتَلَطَّفْ﴾ چه په اشتراء دَطعام اوپه نوروخبروکښ دے نرمی کوی چه څوك ترے نه خبرنهٔ شی اودریم ادب ﴿وَلَا يُشْعِرَنَّ بِكُمْ اَحَدًا﴾ یعنی ښکاره حال دے هم چاته نه بیانوی۔

اَبَدًا ﴿٢٠﴾ وَكَذٰلِكَ اَعْثَرْنَا عَلَيْهِمْ لِيَعْلَمُوْٓا اَنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ وَّاَنَّ السَّاعَةَ لَا رَيْبَ فِيْهَا ۚ اِذْ يَتَنَازَعُوْنَ
بَيْنَهُمْ اَمْرَهُمْ فَقَالُوا ابْنُوْا عَلَيْهِمْ بُنْيَانًا ۗ رَبُّهُمْ اَعْلَمُ بِهِمْ ۗ قَالَ الَّذِيْنَ غَلَبُوْا عَلٰٓى اَمْرِهِمْ لَنَتَّخِذَنَّ
عَلَيْهِمْ مَّسْجِدًا ﴿٢١﴾ سَيَقُوْلُوْنَ ثَلٰثَةٌ رَّابِعُهُمْ كَلْبُهُمْ ۚ وَيَقُوْلُوْنَ خَمْسَةٌ سَادِسُهُمْ كَلْبُهُمْ رَجْمًا
بِالْغَيْبِ ۚ وَيَقُوْلُوْنَ سَبْعَةٌ وَّثَامِنُهُمْ كَلْبُهُمْ ۗ قُلْ رَّبِّيْٓ اَعْلَمُ بِعِدَّتِهِمْ مَّا يَعْلَمُهُمْ اِلَّا قَلِيْلٌ ۬ فَلَا

چرے (۲۰) او دغسے خبر کړل مونږ په دوی باندے دپاره دَ دے چه دوی پوهه شی چه وعده دَ الله تعالی حقه ده او یقیناً قیامت نیشته هیڅ شك په هغے کښے کله (چه دَهغه وخت خلقو) جګړه کوله یوبل سره په باره دَحال دَ دوی کښے پس دوی اُوئیل جوړ کړئ په دوی باندے یوآبادی رب دَ دوی ښه پوهه دے په دوی باندے اُوئیل هغه کسانو چه زوره ور ژو په خپل کار کولو باندے خامخا جوړؤو به مونږ په دوی باندے سجده ګاه (۲۱) ځوك وائی دوی درے دی ځلورم دَ دوی نه سپے دَ دوی دے او ځوك وائی دوی پنځه دی شپږم دَ دوی نه سپے دَ دوی دے داپه اټکل بے دلیله خبرے دی اوځوك وائی دوی اووه دی او اتم دَ دوی نه سپے دَ دوی دے ته اووایه رب ځما ښه پوهه دے په شماره دَ دوی باندے نه پوهیږی دَدوی په شمار باندے مګر لږ کسان پس

[۲۰] په دے ایت کښ علت دَ ماقبل دے اوپه دے کښ اشاره ده چه دوی هجرت هم دَ دے خوف دَ وجے نه کړے وو۔ په دے آیتونوکښ اشاره ده چه دوی په غیب باندے علم نه لرلودَ دوی خیال داوو چه اوس هم هغه خلق موجود دی چه دَ چانه مونږهجرت کړے دے۔ اوروایت دَ مفسرینوکښ راغلی دی چه دوی قاصد اولیګلونوهغه ته هغه خلق اوآبادئ نااشنا ښکاره شوے لیکن مجبوراًپه یودکان باندے داخل شواودَطعام دَاخستلودَپاره ئے خپلے (ورق) روپئ پیش کړے هغه دوکاندارنا اشنا اوګنړلے چه داخواوس په بازارکښ نه لږی۔ ورته ئے اُوئیل چه دا دَ ډیرے مخکښ زمانے روپئی وے کیدے شی چه تابه خزانه موندلے وی نوخلق دَ دوی په شوربانډے خبرشول اوپوهه شول چه دا هغه خلق دی چه تقریباً درے سوه کاله وړاندے دَ دے ملك نه ئے هجرت کړے وو ځکه چه په خلقوکښ دَ دوی قصه مشهوره وه۔

[۲۱] په دے ایت کښ دَ دوی دَحال په ښکاره کولوکښ نورحکمتونه ذکرکوی یوداچه الله تعالی وعده دَنصرت او امداد خپلوصالحینوسره پوره کوی لکه چه دَ اصحاب کهف حفاظت ئے اوکړو ﴿وَكَذٰلِكَ﴾ یعنی لکه چه په دوی باندے ئے خوب راوستلے وواوبیائے په غارکښ دَ دوی حفاظت اوکړواوبیائے دَخوب نه بیدارکړل نودارنګ خلق ئے ترینه خبر کړل۔ دویم داچه دغه وخت خلق په باره دَ دوباره ژوندکښ مختلف وونووقعه دَ دوی دلیل شوپه اثبات دَبعث بعدالموت باندے اودے کښ اشاره ده چه الله تعالی همیشه دَصالحینومقصدونه پوره کوی بلکه کله دَ هغے خلاف کارکوی دَخپل حکمت موافق لکه چه اصحاب کهف غوښتله چه زمونږحال دے پټ شی لیکن الله تعالی ښکاره کړودپاره دَحکمتونو ﴿وَكَذٰلِكَ﴾کښ اشاره ده چه مخکښ کارونه الله تعالی کړی وونوداخبرول دَخلقوهم الله تعالی اوکړل ﴿وَعْدَ اللّٰهِ﴾ نه مراد بعث بعدالموت دے دَ بدنونوسرهٔ دَ ارواحونه﴿اِذْ يَتَنَازَعُوْنَ بَيْنَهُمْ اَمْرَهُمْ﴾مراد دَ اَمرَهُم نه مسئله دَحشرده چه دَ دغه وخت خلقوپه هغے کښ تنازع اواختلاف کوو بعضو دَ

تُمَارِ فِيْهِمْ اِلَّا مِرَآءً ظَاهِرًا ۠ وَّلَا تَسْتَفْتِ فِيْهِمْ مِّنْهُمْ اَحَدًا ﴿۲۲﴾ وَلَا تَقُوْلَنَّ لِشَايْءٍ اِنِّيْ فَاعِلٌ ع ۱۵

بحث مه کوه دَ دوی په باره کښے مگربحث کول سرسری اومه کوه تپوس دَ دوی په باره کښے دَ دے خلقو دَ هیڅ یوتن نه (۲۲) اومه وایه دَ یوکار په باره کښے چه ځه به کۅونکے یم

بعث نه انکارکوواوبعضوبعث دَارواحومنلواودَ بدنونوئیے نه منلواو بعضوصحیح بعث منلواودویمه معنیٰ دا ده چه ضمیرد اَمرَهُم اصحاب کهف ته راجع دے اودا روستودَمرګ دَاصحاب کهف نه وو۔ یعنی دَهغه وخت خلقواختلاف اوکړوپه باره دَاصحاب کهفوکښ۔ مجوسیانووئیل چه دازمونږدَمذهب خلق وو اونصاراؤ اُوئیل چه دوی زمونږپه مذهب وو۔ نومجوسیانووئیل چه دَ دوی نه دے چاپیره یودیوال اووهلے شی۔ اونصاراؤ اُوئیل چه دَ دوی په خواکښ دے یوعبادتګاه جوړکړے شی﴿اَلَّذِيْنَ غَلَبُوْا عَلٰٓى اَمْرِهِمْ﴾ دَ دے مراد دغه نصاریٰ دی ځکه چه حکومت دَ دوی وواودوی پرے مسجد جوړکړو۔

فائده: مبتدعینودَ دے نه استدلال کړے دے چه په قبرونودَنیکانو خلقوباندے مسجد جوړول جائزدی لیکن دا استدلال ئے باطل دے اوله وجه دا ده چه دانصاریٰ وواوپه دے ایت کښ اللّٰه تعالیٰ دَهغوی مدحه نه ده کړے بلکه صرف دَهغوی غلبه اوزورئے ذکرکړے دے۔ اودویمه وجه دا ده چه احادیث صحیحه صریح دلالت کوی چه په قبرونودَ انبیاؤ اودَصالحینوچه څوك مساجد جوړوی نورسول اللّٰهﷺ په هغوی باندے دَخپل طرف نه هم لعنت اوغضب ذکرکړے دے۔او تفسیر ابن کثیر او تفسیر قرطبی اوتفسیر روح المعانی په دے مقام کښ تفصیلی ردکړیدے۔

[۲۲] په دے آیت کښ اولاًزجردے هغه کسانوته چه مختلف اقوال کوی په شماره دَ اصحاب کهفوکښ بغیردَ دلیل نه ﴿وَيَقُوْلُوْنَ سَبْعَةٌ﴾ دا جمله ئے جدا راوړے ده دَ دے وجے نه چه دا عدد صحیح دے رجمًا بالغیب نه دے اوبله وجه دا ده چه ﴿مَا يَعْلَمُهُمْ اِلَّا قَلِيْلٌ﴾ ئے فرمائیلی دی اوروایت دَعبداللّٰه بن عباسؓ نه نقل دے چه هغه هم عدد دَ سبعه ذکرکړے وو چه وئیلی ئے وو چه ځه هم دَ هغه قلیل نه یم چه دَ دوی په عدد باندے خبروو﴿وَثَامِنُهُمْ﴾ دے واوته واوثمانیه وائي چه په عدد کښ دَ اوونه روسته ذکرکیږی اودا دَ بعضِ نحویانومسلك دے اوبله وجه دا ده چه دا واودَ دے تنبیه دَپاره دے چه دا عدد حق دے اودَمخکنو اعدادونه خلاف دے ﴿قُلْ رَّبِّيْٓ اَعْلَمُ﴾ په دے کښ اشاره ده احسن طریقے ته په داسے مقام کښ هغه دا ده چه اللّٰه تعالیٰ ته علم اوسپارلے شی ځکه دَ داسے مقام په تفصیل کښ ضرورت نیشته کوم چه په صحیح دلیل سره معلوم وی نودَ هغے وئیل پکاردی ﴿فَلَا تُمَارِ فِيْهِمْ اِلَّا مِرَآءً ظَاهِرًا﴾ پدے کښ بیان دَ ادب اول دے اومراد دَ مراءَ نه بحث کول دی اومراد دَ ظاهراً نه هغه بحث دے چه قرآن پاك کښ ذکرشویاپه صحیح حدیث سره ثابت وی ﴿وَلَا تَسْتَفْتِ فِيْهِمْ مِّنْهُمْ اَحَدًا﴾ دا ذکرد دویم ادب دے او دا دلیل دے په دے خبره چه مسلمانانو لره نه دی جائز چه دَ اهل کتابونه په باره دَعلم دین کښ استفاده کوی هاں په قصصودَ اهل کتابوکښ چه عبرت وی اوقرآن وسنت نه خلاف نه وی نودَهغے ذکرپه سبب دَ حدیث (وحَدِّثُوا عَن بنی اسرائیل ولاحرج) سره جائزدے۔

ذٰلِكَ غَدًا ﴿٢٣﴾ اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ ز وَاذْكُرْ رَّبَّكَ اِذَا نَسِيْتَ وَقُلْ عَسٰٓى اَنْ يَّهْدِيَنِ رَبِّيْ لِاَقْرَبَ
مِنْ هٰذَا رَشَدًا ﴿٢٤﴾ وَلَبِثُوْا فِيْ كَهْفِهِمْ ثَلٰثَ مِائَةٍ سِنِيْنَ وَازْدَادُوْا تِسْعًا ﴿٢٥﴾ قُلِ اللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا
لَبِثُوْا ج لَهٗ غَيْبُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ط اَبْصِرْ بِهٖ وَاَسْمِعْ ط مَا لَهُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ مِنْ وَّلِيٍّ ز وَّلَا يُشْرِكُ فِيْ

داکار صبا (۲۳) مګر (چه ذکر کړے) مشیت دَ اللّٰه تعالیٰ او یاد وه رب خپل هرکله چه ته هیر کړے او وایه نزدے ده چه اوبه ښائی ماته رب ځما ډیر نزدے دَ دے نه دَهدایت په اعتبار سره (۲٤) او حصار شویؤو دوی په غار خپل کښے درے سوه کاله او زیاتی ؤو نهه (په حساب دَ سپوږمئ)(۲۵) ته اُوایه اللّٰه تعالیٰ ښه پوهه دے په هغه موده چه دوی پکښے حصار شویؤو خاص اللّٰه تعالیٰ لره علم دَپټو خبرو دَ آسمانونو او دَزمکے دے ښه لیدونکے اوښه اوریدونکے دے نیشته دوی لره سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه څوك مددګار اونه برخه ورکوی اللّٰه تعالیٰ په

[۲٤،۲۳] په دے ایتونو کښ درے اداب ئیے ذکر کړیدی اول ادب انشاء اللّٰه وئیل دی دَهرخبرمستقبل سره ﴿اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ﴾ دا ئیے جدا ایت کښ ذکر کړی په دیکښ اشاره ده چه بغیرَ انشاء اللّٰه نه اخبارَ مستقبل منع دے اودا دلیل دے په دے خبره چه نبی ﷺ عالم الغیب نهٔ دے ﴿وَاذْكُرْ رَّبَّكَ اِذَا نَسِيْتَ﴾ دابیان دَبل ادب دے دَ دے جملے مفسرینو ډیرے معنے ذکر کړیدی۔ اوله معنٰی دا ده یادکړه رب لره په انشاء اللّٰه وئیلو سره کله چه ستانه دا ذکر هیرشوے وی اوبیا درته یادشی دَ ابن عباس رضی اللّٰه عنهما نه نقل دے چه په داسے وخت کښ که یوتن نه انشاء اللّٰه هیرشی او بیا کال پس ورته یادشی نو او دِ وائي ابن جریر وائي چه دَ دے مطلب دا دے چه سنت دَ انشاء اللّٰه به اداشی اګر چه په دے سره تعلیق او اول کلام لغو کول نه کیږی ۔ دویمه معنیٰ دا ده یاد کړه رب خپل په استغفار او تسبیح کولو سره کله چه ستا نه انشاء اللّٰه وئیل هیرشوی وی اوبیا درته یادشی۔ دریمه معنیٰ دا ده یادکړه عذاب دَ رب خپل کله چه پریږدے څه حکم دَ رب خپل ﴿وَقُلْ عَسٰٓى اَنْ يَّهْدِيَنِ رَبِّيْ لِاَقْرَبَ مِنْ هٰذَا رَشَدًا﴾ مفسرینودَ دے درے معنے لیکلی دی۔ اوله معنیٰ دا ده امید دے چه اوبه ښائی ماته رب زما زیات ښکاره دَ خبرَ اصحاب کهفونه په هدایت کولو کښ خلقوته۔ دویمه معنیٰ دا ده امید دے چه اوبه ښائی ماته رب زما جواب دَ سوال ستاسو نزدے دَ هغے وخت نه چه ماتاسوته خودنه کړے ده۔ دریمه معنیٰ چه کله اللّٰه تاته هغه شے یادنکړی نواو وایه چه امید دے چه اوبه ښائی ماته رب زیات نزدے او غوره دَ دے هیرشوی شی نه په خیراو فائده کښ او بعضِ علماؤ وئیلی دی چه دا ذکر تعبدی دے په وخت دَ هیریدلو دَ انشاء اللّٰه تعالیٰ کښ۔

[۲۵] دَ دے په باره کښ دوه قوله دی اول قول دا دے چه دا اخبار دے دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه دَ مقدار دَ هغے مودے چه دوی اوده وو په غارکښ تربیداریدلو پورے او دویم قول دا دے چه دا حکایت دَ قول دَ اهل کتابو دے چه هغوی دا سے وئیلی دی او بنا په دے قول دا معطوف دے په یقولون چه په (۲۲) کښ ذکردے نودا دَ خلقو قول دے۔ لیکن اول قول غوره دے ځکه چه دَ اهل کتابوپه کتابونوکښ دا جمله نیشته چه وازدادو تسعًا او دارنګ په دے معطوف معطوف علیه کښ ډیر فاصله په کلام غیر متعلق سره ده او دا قول اول ابن کثیراو ابن جریر هم غوره کړے دے ﴿ثَلٰثَ مِائَةٍ سِنِيْنَ﴾ لفظ دَ سنین بدل دے یا عطف بیان دے دَ

حُكْمِهٖٓ اَحَدًا ﴿۲۶﴾ وَاتْلُ مَآ اُوْحِیَ اِلَیْكَ مِنْ كِتَابِ رَبِّكَ ۭ لَا مُبَدِّلَ لِكَلِمٰتِهٖ ۚ وَلَنْ تَجِدَ مِنْ دُوْنِهٖ مُلْتَحَدًا ﴿۲۷﴾ وَاصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ الَّذِیْنَ یَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَدٰوةِ وَالْعَشِیِّ یُرِیْدُوْنَ وَجْهَهٗ ۚ وَلَا تَعْدُ عَیْنٰكَ عَنْهُمْ ۚ تُرِیْدُ زِیْنَةَ الْحَیٰوةِ الدُّنْیَا ۚ وَلَا تُطِعْ مَنْ اَغْفَلْنَا قَلْبَهٗ عَنْ ذِكْرِنَا وَاتَّبَعَ

خپل اختیاراتو کښے هیڅا لره (۲۶) او لوله هغه چه وحي کړے شوے ده تاته دَکتاب رب ستانه نیشته بدلوونکے دَ کلماتو دَ هغه او هرګز به اونه مومے سیوا دَ الله تعالیٰ نه ځائے دَ پناهئ (۲۷) اوتپینګ کړه ځان خپل دَ هغه کسانو سره چه حاجتونه پیش کوی رب خپل ته صبائی او بیګائی غواړی دوی مخ دَهغه او وانوړی سترګے ستا دَ دوی نه چه غواړے ته ډول دَ ژوند دنیاوی او خبره مه منه دَ هغه چاچه غافل کړے دے مونږ زړه دَهغه دَ ذکر زمونږ نه او روان دے

ثلث مائةٍ دپاره او تمیز نه دے ځکه چه تمیز دَ مِائة مفرد او مجرور رائځی۔ دویم قول دا دے چه ثلثمائة چه اُوئیلے شو نو سوال اوشو چه دَ ثلثمائة نه څه مراد دے نو اُوئیلے شو چه سنین یعنی اعنی پکښ پټ دے۔ ﴿وَازْدَادُوْا تِسْعًا﴾ دا لفظ ئے جدا دَ دے وجے نه راوړو چه ثلثمائة په اعتبار دَ حساب شمسیه دے اوتسع زیات دی په حساب قمریه سره ځکه چه دَ شمسی حساب په سلوکالوکښ دَ قمری حساب درے کاله زیاتیږی نوپه درے سوه کاله شمسی حساب کښ نهه کاله قمری زیاتیږی اودواړه حسابونه ئے دَ دے وجے نه ذکرکړه چه اول حساب دَکتابیانودے اودویم دَ امیین عرب دے نودَ دواړولحاظ اوکړے شو۔

[۲۶] په دے ایت کښ اول تفریع ده په واقعه دَاصحاب کهف باندے اوپه دے ایت کښ پنځه جملے دَ توحید دی ﴿بِمَالَبِثُوْا﴾ دَ دے نه مراد هغه لبث دے چه روستو دَ بیداریدلودَ اصحاب کهف نه ترمړګ دَ هغوی پورے دے نو دا اعتراض نشی کیدے چه اول خو الله تعالیٰ عدد دَ لبث ذکر کړو نو بیا دا قول (قل الله اعلم) دَ هغے دَ رد دَ پاره په څه وجے سره ذکر کوی ﴿اَبْصِرْبِهٖ وَاَسْمِعْ﴾ یومعنیٰ دا ده چه بِهٖ ضمیروحی ته راجع دے یعنی پوهه شه په وحی دَالله تعالیٰ بیا واوروه نورو خلقوته۔ دویمه معنیٰ دا ده چه دا صیغے دَتعجب دی یعنی الله تعالیٰ بنه او ریدونکے او بنه لیدونکے دے ﴿وَلَایُشْرِكُ فِیْ حُكْمِهٖٓ اَحَدًا﴾ حکمه نه مراد حکم تکوینی (انتظام چلول دَ عالم) اوحکم تشریعی دواړه دی اوپه دے جمله کښ رد دے په شرك عطائیي باندے یعنی څوك چه وائي چه الله تعالیٰ فلان له په خپل اختیاراوتصرف کښ برخه ورکړے ده لکه عام مشرکان داسے وائي نوپه دے ایت کښ رد دے په هغوی باندے اوداسے په سورة زخرف (۴۵) کښ هم ذکر دی۔

[۲۷] په دے ایت کښ دویمه تفریع ده اوبل ادب دے یعنی تیزی ورکول په تبلیغ دَ قرآن باندے ﴿لِكَلِمٰتِهٖ﴾دَ دے نه ډول قرآن مراد دے اودارنګ اشاره ده هغه کلماتوته چه تیرشوی ایت کښ دی اوداسے په سورة انعام (۱۱۵)کښ دی ﴿وَلَنْ تَجِدَمِنْ دُوْنِهٖ مُلْتَحَدًا﴾په دے کښ رد دے په شرك فی التصرف باندے اوپه دیکښ تخویف دے هغه چاته چه قرآن کریم پریږدی۔

هَوٰىهُ وَكَانَ اَمْرُهٗ فُرُطًا ﴿٢٨﴾ وَقُلِ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّكُمْ ۟ فَمَنْ شَآءَ فَلْيُؤْمِنْ وَّمَنْ شَآءَ فَلْيَكْفُرْ ۙ اِنَّآ
اَعْتَدْنَا لِلظّٰلِمِيْنَ نَارًا ۙ اَحَاطَ بِهِمْ سُرَادِقُهَا ؕ وَاِنْ يَّسْتَغِيْثُوْا يُغَاثُوْا بِمَآءٍ كَالْمُهْلِ يَشْوِى الْوُجُوْهَ ؕ
بِئْسَ الشَّرَابُ ؕ وَسَآءَتْ مُرْتَفَقًا ﴿٢٩﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اِنَّا لَا نُضِيْعُ اَجْرَ مَنْ اَحْسَنَ

په خواهش خپل پسے او دے کار دَهغه دَ حدنه تیریدل (۲۸) او وایه حق چه ستا رب دَ طرف نه دے پس څوك چه غواړی نو ایمان دے راوړی او څوك چه غواړی نو کفر دے اوکړی یقیناً تیارکړیدے مونږ ظالمانو دپاره اور راکیږیه کړی دوی لره دیوالونه دَهغے اوکه دوی دَ اوبو فریاد کوی نو فریاد به ئے قبول شی په داسے اوبو سره چه په شان دَویلے کړے شوے گرمے تانبے وی چه روتوی به مخونه دَ دوی ناکاره ځکل دی او بد دے ځائے دَ فائدے اخستلو (۲۹) یقیناً هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے اوعملونه ئے کړی دی دَسنت برابر یقیناً مونږ نه برباد وُو ثواب دَ هغه چاچه خائسته

[۲۸] په دے کښ دریمه تفریع اوادب دے لکه څنگه چه اصحاب کهف دَمالداردنیاپرستونه جداشول نودارنگ هرمؤحد له ضروری دی چه دَ مؤحدینوسره ملگرتیا اوکړی اگرچه فقراء وی لفظ دَ ﴿وَاصْبِرْ﴾ کښ اشاره ده چه دَ دوی په ملگرتیا کښ به مصائب راځی لیکن صبرکول لازم دی ﴿مَعَ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ﴾ ذکردَ دُعا دے مراد ترینه ذکردَ اللّٰه تعالیٰ دے په توحید سره۔ اودعا مخّ العبادت دے نودا خل دی په دے کښ ټول عبادات په طریقه دَتوحید ﴿بِالْغَدٰوةِ وَالْعَشِيِّ﴾ نه مراد هر وخت دے لیکن دَ دے وختونو ئیے دَ ډیر فضیلت دَ وجے نه تخصیص کړے دے ﴿وَجْهَهٗ﴾ په اعتبار دَ معنیٰ سره محکم دے او په اعتباردَکیف سره متشابه دے ﴿وَلَا تَعْدُ عَيْنٰكَ﴾ په دے کښ منع ده دَ پریخودلو دَ ملگرتیا دَ مؤحدینونه دَ وجے دَ طلب دَ دنیا نه۔ ﴿تُرِيْدُ زِيْنَةَ﴾ یعنی مخ گرځول دَمؤحدینونه دَ دنیا پرستئے په وجه سره ناجائزدی اوکه دَ بل ضرورت شرعی یا عادتی په وجه سره وی نوجائزدے ﴿وَلَا تُطِعْ﴾ کښ تصریح ده په اعراض کولوسره دَ هغه چانه چه دا درے صفات وی په هغه کښ اول صفت ﴿اَغْفَلْنَا قَلْبَهٗ عَنْ ذِكْرِنَا﴾ مراد ترینه ختم قلب دے په شرك باندے دویم صفت ﴿وَاتَّبَعَ هَوٰىهُ﴾ مراد ترینه شرك او بدعت دے دریم صفت ﴿وَكَانَ اَمْرُهٗ فُرُطًا﴾ یعنی دین دَ هغه په طریقه دَ افراط سره دے یعنی تعدی کوی دَ حدودو شرعیونه په عقیده اوپه عمل کښ۔

[۲۹] په دے ایت کښ څلورمه تفریع ده اوادب دے لکه څنگه چه اصحاب کهف حق بیان کړیدے دارنگ حق بیانول لازم دی سرهٔ دَتخویف اوبشارت نه ﴿اَلْحَقُّ﴾ خبردَ مبتدا محذوف دے یعنی دا بیان چه مخکښ ذکر شو حق دے یا الحق مبتدا دے اومن ربکم خبر دے اوپه دیکښ تعریف دَ حق دے ﴿فَمَنْ شَآءَ فَلْيُؤْمِنْ﴾ دا دلیل دے چه انسان دَپاره اراده اواختیارمن وجه ورکړے شویدے رد دے په جبریه باندے ﴿اِنَّآ اَعْتَدْنَا﴾ دلیل دے چه دا مخکښ قول چه (فلیکفر) دے په طریقه دَ زورنے سره دے ﴿سُرَادِقُهَا﴾ حدیث ترمذی کښ وارد دے چه سرادق څلوردیوالونه دی دَ جهنم، غټ والے دَ هردیوال په مزل دَ څلویښتو کالودے ﴿كَالْمُهْلِ﴾ ویخ دَ تیلوته وئیلے کیږی یعنی خیرے دَ تیلو۔ دویمه معنیٰ وِیلے کړے شوے تانبه اواوسپنه دریمه معنیٰ نوؤنه اووینے زوے دَ زخمونودَ جهنمیانو۔ نوربدحالات دَهغه په سورة محمد (۱۵) اوسورة ابراهیم (۱۶) کښ ذکردی۔

عَمَلًا ﴿٣٠﴾ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ جَنّٰتُ عَدْنٍ تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِهِمُ الْاَنْهٰرُ یُحَلَّوْنَ فِیْهَا مِنْ اَسَاوِرَ مِنْ ذَهَبٍ
وَّیَلْبَسُوْنَ ثِیَابًا خُضْرًا مِّنْ سُنْدُسٍ وَّاِسْتَبْرَقٍ مُّتَّكِـِٕیْنَ فِیْهَا عَلَى الْاَرَآئِكِ ؕ نِعْمَ الثَّوَابُ ؕ وَحَسُنَتْ
مُرْتَفَقًا ﴿٣١﴾ وَاضْرِبْ لَهُمْ مَّثَلًا رَّجُلَیْنِ جَعَلْنَا لِاَحَدِهِمَا جَنَّتَیْنِ مِنْ اَعْنَابٍ وَّحَفَفْنٰهُمَا بِنَخْلٍ وَّ
جَعَلْنَا بَیْنَهُمَا زَرْعًا ﴿٣٢﴾ كِلْتَا الْجَنَّتَیْنِ اٰتَتْ اُكُلَهَا وَلَمْ تَظْلِمْ مِّنْهُ شَیْـًٔا ۙ وَّفَجَّرْنَا خِلٰلَهُمَا نَهَرًا ﴿٣٣﴾
وَّكَانَ لَهٗ ثَمَرٌ ۚ فَقَالَ لِصَاحِبِهٖ وَهُوَ یُحَاوِرُهٗٓ اَنَا اَكْثَرُ مِنْكَ مَالًا وَّاَعَزُّ نَفَرًا ﴿٣٤﴾ وَدَخَلَ جَنَّتَهٗ وَهُوَ
ظَالِمٌ لِّنَفْسِهٖ ۚ قَالَ مَآ اَظُنُّ اَنْ تَبِیْدَ هٰذِهٖٓ اَبَدًا ﴿٣٥﴾ وَّمَآ اَظُنُّ السَّاعَةَ قَآئِمَةً ۙ وَّلَىِٕنْ رُّدِدْتُّ

عمل ئے کړے وی (۳۰) دغه کسان دوی لره جنتونه دَ همیشه اوسیدلو دی چه بهیږی به لاندے دَ دوی نه ولے اچولے کیږی به دوی ته په هغے کښے بنګړی دَ سرو زرونه او اغوندی به جامے شنے دَ نرو ریښمونه او غټو ریښمونه تکیه به ئے وهلے وی په هغے کښے په پالنګونو باندے بنه بدله ده او خائسته دَ فائِدو ځائے دے (۳۱)اوبیان کړه دوی ته مثال دَ دؤو سړو چه ورکړی دی مونږ یوتن دَ دوی ته دوه باغونه دَ انګورونه اوچاپیره کړے دی دَهغے دواړونه مونږ کجورے او پیدا کړے وؤ مونږ دَهغے په مینځ کښے فصل (۳۲) دواړو باغونو ورکولے میوے خپلے اونه ئے کمه ؤو دَهغے نه څه شے او بهیَولے ؤو مونږ په مینځ دَ هغے دواړو کښ نهر (۳۳) او وے دهٗ لره نورے امدنئ پس اُوئیل ئے ملګری خپل ته او دَهغه سره ئے خبرے اړولے چه څه ستانه زیات مالداریم او زوره وریم په ډله کښے (۳٤) او ورننوتلویو باغ ته اوحال داچه ظلم کؤونکے ؤو په خپل ځان باندے نو اُوئیل ئے ګمان نه کؤوم چه دابه چرته هلاك شی(۳۵) اوګمان نه کؤوم په قیامت باندے قائمے دونکے اوکه (بالفرض) اوګرځولے شم

[۳۰] په دے آیت کښ بشارت دے ایمان والوته ﴿اَحْسَنَ عَمَلًا﴾ په دے آیت کښ دَ دے تفسیرته اشاره ده چه ایمان اوعمل صالح دے ځکه چه دَ هُم ضمیر په ځائے ئے من احسن عملاً راوړے دے۔

[۳۱] په دے آیت کښ بشارت دے تفصیلی ځکه چه په دیکښ لس انعامات خاصه ذکردی اوپه دے بشارت کښ نعمتونه دَمالدارئے ذکرکړه دا په بدله دَاختیار کولو دَملګرتیا دَ فقراؤ کښ﴿الْاَرَآئِكِ﴾ جمع دَ اریکة ده هغه پالنګ چه ناوے په هغے باندے ارام کوی ﴿مُتَّكِـِٕیْنَ﴾ تکیه شا او ډډه لګولوته وئیلے شی اودارنګ تربّع (پرلت وهلو) ته هم وئیلے شی۔

[۳۲] دَ دے آیت نه حال دَ مالدار مشرك ذکرشویدے اشاره ده چه جنت په مالدارئے سره نه حاصلیږی اودارنګ دامتعلق دے دَ واصبرنفسك اه یعنی دَ مالدارئے لحاظ مه کوئے ځکه چه هغه سبب دَکفر اودَعذاب دے۔ اودَ دے ځائے نه تزهید فی الدنیا ذکر دے په دریوطریقوسره اوله طریقه دا ده چه محبت دَ دنیا سبب دَ شرك اودَ انکار دَ بعث بعدالموت دے اوسبب دَ عذاب دنیوی دے اودَ دے دَپاره دا واقعه ذکرکړے شوے ده ﴿رَجُلَیْنِ﴾ غوره قول دا دے چه دا په طریقه دَ مثال سره دے وجود دَ دے رَجُلَینودَ مثال دَپاره ضروری نه دے۔

[۳٤،۳۳،۳۵،۳٦] پدے ایاتونوکښ ذکردَحالاتودَمالدارسړی دے چه مشرك اومنکردَ بعث وی

اِلٰى رَبِّیْ لَاَجِدَنَّ خَیْرًا مِّنْهَا مُنْقَلَبًا ﴿٣٦﴾ قَالَ لَهٗ صَاحِبُهٗ وَهُوَ یُحَاوِرُهٗٓ اَكَفَرْتَ بِالَّذِیْ خَلَقَكَ
مِنْ تُرَابٍ ثُمَّ مِنْ نُّطْفَةٍ ثُمَّ سَوّٰىكَ رَجُلًا ﴿٣٧﴾ لٰكِنَّا۠ هُوَ اللّٰهُ رَبِّیْ وَلَآ اُشْرِكُ بِرَبِّیْٓ اَحَدًا ﴿٣٨﴾
وَلَوْلَآ اِذْ دَخَلْتَ جَنَّتَكَ قُلْتَ مَا شَآءَ اللّٰهُ لَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ اِنْ تَرَنِ اَنَا اَقَلَّ مِنْكَ مَالًا
وَّوَلَدًا ﴿٣٩﴾ فَعَسٰى رَبِّیْٓ اَنْ یُّؤْتِیَنِ خَیْرًا مِّنْ جَنَّتِكَ وَیُرْسِلَ عَلَیْهَا حُسْبَانًا مِّنَ السَّمَآءِ
فَتُصْبِحَ صَعِیْدًا زَلَقًا ﴿٤٠﴾ اَوْ یُصْبِحَ مَآؤُهَا غَوْرًا فَلَنْ تَسْتَطِیْعَ لَهٗ طَلَبًا ﴿٤١﴾ وَاُحِیْطَ بِثَمَرِهٖ فَاَصْبَحَ

رب ته (په قیامت کښے) نواوبه مومم غوره دَهغے نه ځائے دَ ورتللو(٣٦) اُوئیل دهٔ ته ملګری دَ دهٔ اوحال داچه دهٔ ورله جواب ورکړو ایاته کفر (شرك) کوے دَ هغه ذات سره چه پیدا کړے ئے ته دَ خاورونه بیا دَ نطفے نه بیائے برابر کړے ته سړے (٣٧) لیکن ځه (وایم) چه اللّٰه تعالیٰ ځما رب دے اونه شریکؤوم دَرب سره هیڅوك (٣٨) او ولے چه کله داخل شوے باغ خپل ته ولے دِ نه وئیل (چه هغه کیږی) چه اللّٰه تعالیٰ اوغواړی اونیشته قوت مګر په امداد دَ اللّٰه تعالیٰ سره دے که ته وینے ماړه کم ستانه په مال اوپه اولاد کښے (٣٩) نو امید دے چه رب ځما به راکړی ماته غوره دَ باغ ستانه او رااوبه لیږی ستا په باغونو باندے عذاب دَ بره طرف نه نو شی به میدان خویه (٤٠) اویا به شی اوبه دَهغے وچے (په زمکه کښے) پس هرګز به طاقت اونه لرے دَهغے دَ رابنکاره کولو(٤١) اوراګیر کړے شو مالونه دَ هغه (په عذاب کښے) پس شروع شو

﴿وَكَانَ لَهٗ ثَمَرٌ﴾ نه مرادنورمالونه دی چه سبب دَ ډیرے امدنئ دی ﴿اَنَا اَكْثَرُ مِنْكَ مَالًا وَّاَعَزُّ نَفَرًا﴾ پدیکښ تکبرکول ذکردی په مالدارئ باندے اوپخپل جماعت باندے۔ نَفَرَا نه مراد ملګری دَمجلس اوخادمان او اولاد دی ﴿وَهُوَ ظَالِمٌ لِّنَفْسِهٖ﴾ دا دلیل دے چه هغه مشرك وو ﴿مَآ اَظُنُّ اَنْ تَبِیْدَ هٰذِهٖٓ اَبَدًا﴾ پدیکښ ذکر دَ انکار دے دَفنا دَ دُنیا نه اودا ډیره بے عقلی ده ﴿وَمَآ اَظُنُّ السَّاعَةَ﴾ کښ اشاره ده چه دے منکردے دَبعث بعد الموت نه ﴿وَلَئِنْ رُّدِدْتُّ اِلٰى رَبِّیْ﴾ په دے کښ خپل کرامت اوعزت ثابتوی چه دَ دُنیا ډیروالے سبب دَکرامت دے نودارنګ عزت به په قیامت کښ راکوی دَ دے ذکرسورة مریم (٧٧) اوسورة حم سجده (٥٠) کښ هم دے۔

[٣٧، ٣٨] پدے ایتونوکښ کلام دَ مؤحد دے۔ اواول زجردے هغه مشرك ته په شرك دَ هغه باندے په دلیل عقلی سره چه اول پیدائش دَ انسان دے اودا دلیل په ډیروسورتونوکښ ذکردے ﴿یُحَاوِرُهٗٓ﴾ کښ اشاره ده چه مباحثه اومناظره دَ پاره دَ اظهار حق ضروری ده ۔ او دارنګ جواب ورکول باطل پرست ته ضروری دی۔ ﴿صَاحِبُهٗٓ﴾ دَ دے وجے نه ئے ورته صاحبه اُوئیلو چه دَ هغه سره هم مجلس وؤ دَپاره دَ دعوت کولو یا صاحب په معنیٰ دَ ناصح دے یا دَ هغه دَ خاندان او دَ قوم نه وؤ اوپه دویم ایت کښ اظهار دَ عقیدے دَ توحید دے ﴿لٰكِنَّا هُوَ اللّٰهُ﴾ تقدیردَکلام دا دے لکن اناقول هو اللّٰه۔ په اوله کلمه کښ توحید دے اوپه دویمه کلمه کښ رد دَ شرك دے اولفظ اَحَدًا مستعملیږی دَ پاره دَ روح اوعقل والو، نه دَپاره دَ بُتانو، نوبُتان په هغے کښ تبعًا داخل دی ۔ لٰكِنَّا په اصل کښ لکن انادے نو الف دَ مینځ نه او غورځولے شواونون په نون کښ مدغم شو۔

[٣٩، ٤٠، ٤١] په دے کښ اولاً تعلیم دَمؤمن دے کافرته دَکلماتودَتوحید په وخت دَ داخلیدلودَ باغ

يُقَلِّبُ كَفَّيْهِ عَلٰى مَآ اَنْفَقَ فِيْهَا وَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلٰى عُرُوْشِهَا وَيَقُوْلُ يٰلَيْتَنِيْ لَمْ اُشْرِكْ
بِرَبِّيْٓ اَحَدًا ﴿٤٢﴾ وَلَمْ تَكُنْ لَّهٗ فِئَةٌ يَّنْصُرُوْنَهٗ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَمَا كَانَ مُنْتَصِرًا ﴿٤٣﴾ هُنَالِكَ
الْوَلَايَةُ لِلّٰهِ الْحَقِّ ۭ هُوَ خَيْرٌ ثَوَابًا وَّخَيْرٌ عُقْبًا ﴿٤٤﴾ وَاضْرِبْ لَهُمْ مَّثَلَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا كَمَاۗءٍ اَنْزَلْنٰهُ
مِنَ السَّمَاۗءِ فَاخْتَلَطَ بِهٖ نَبَاتُ الْاَرْضِ فَاَصْبَحَ هَشِيْمًا تَذْرُوْهُ الرِّيٰحُ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ

چه مخل ئے ورغوی خپل په هغه خرچه پسے چه کړے وه په هغے کښ اوهغه (باغونه) راغورځیدلی ؤو په چتونو خپلو باندے او اُوئیل دهٗ هائے افسوس دے چه شریك مِ نه وے کړځولے دَ رب خپل سره هیڅوك (٤٢) اونه وه دهٗ لره هیڅ ډله چه دَ دهٗ سره ئے امداد کړے وے سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه اونه ؤو دے بدله اخستونکے (٤٣) په داسے وخت کښے واك اختیار دَیو اللّٰه تعالیٰ دے یقیناً هغه غوره دے بدلے والا او غوره نتیجه ورکؤونکے دے (٤٤) او بیان کړه دوی ته مثال دَ ژوند دنیوی په شان دَ هغه اوبوچه را اورَؤو مونږ دَبره طرف نه پس ګنډ رااوخیژی په هغے سره بوټی دَ زمکے نه پس شی به ذرے ذرے وابه لوڅوی هغے لره هواګانے او دے اللّٰه تعالیٰ په هر څیز باندے

کښ اودَ هرنعمت په وخت کښ۔اورد دے په هغه باندے دَ هغه کلماتوچه هغه وئیلی ووپه وخت دَ داخلے دَباغ کښ﴿مَاشَآءَ اللّٰهُ لَاقُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ﴾ دَ دے معنیٰ دا ده هغه څه چه اللّٰه تعالیٰ اوغواړی نو هغه کیږی که مالداری وی اوکه فقیری وی۔ اوڅه مال وغیره چه راجمع کړے شویدے نودا په قدرت او په قوت دَ اللّٰه تعالیٰ سره دے۔ اودا کلمات دَ هرنعمت په وخت کښ لوستل پکاردی دا قول دَ بعضِ سلفونه نقل دے اوهغه حدیث مرفوع چه په دے باب کښ دَمسند دَ ابویعلی نه نقل دے نودَ هغے سندکښ ضعیف راوی دے چه هغه عیسیٰ بن عون دے اودَ ﴿اِنْ تَرَنِ اَنَا﴾ جزاء محذوف ده یعنی لایضرنی ذالك(ماته داهیڅ نقصان نشی راکولے) ﴿حُسْبَانًا﴾ هغه کانړے یا عذاب دے چه دَ آسمان نه نازل شی او واحد دَ دے حسبانة دے او حسبان حساب ته هم وائي بیا په دے کښ مضاف مقدر شی(عذاب الحسبان) او ابن کثیروئیلی دی چه حسبان طوفان والا باران ته هم وائی اودا قول دَ رَجُلٍ مؤمن دَ وجے دَ اعتماد او دَ توکل علی اللّٰه نه دَ هغه دَ خلے نه صادر شوے وو۔ اواللّٰه تعالیٰ دَ هغے موافق اجابت اوکړواودا دَ قبیلے دَ کرامت نه دے لکه چه صحیح حدیث کښ ذکر دی (رُبَّ اَشعَثَ اغبرلواقسم علی اللّٰه لابره) ډیرکرتے ببرسرے دوړو والاسړے چه دَ اللّٰه په څه کارباندے قسم اوکړی نو اللّٰه تعالیٰ هغه پوره کوی۔ اویا دا جملے په معنیٰ دَ دُعاء دی اواللّٰه تعالیٰ دَ هغه دعاء قبوله کړه۔

[٤٢] پدے آیت کښ ذکر دَ عذاب دنیوی او حسرت کول دَهغه کافر دی او په وخت دَ ډیر افسوس کولو کښ انسان دواړه ورغوی دَ یوبل سره مګی او سبب دَ عذاب ته ئے اشاره اوکړه پدے قول سره ﴿يٰلَيْتَنِيْ لَمْ اُشْرِكْ بِرَبِّيْٓ اَحَدًا﴾ اودَ بَمَرِهِ لفظ دَهغه ټولوباغونواومالونوته شامل دے۔

[٤٣] دا رد دَشرك فی التصرف دے چه معبودان باطله اونورقوتونووالا عذاب دَ اللّٰه او مصیبت نشی دفع کولے﴿فِئَةٌ﴾ هغه ډله اوجماعت ته وئیلے شی چه په وخت دَمصیبت کښ هغه ته رجوع اوپناهی حاصلیږی مراد دَ دے نه دَهغه شخص معبودان باطله اوملګری اوتابعداران دی۔

[٤٤] په دے کښ اثبات دَ اختیاراوتصرف دے خاص اللّٰه تعالیٰ لره ﴿اَلْوَلَايَةُ﴾ دَ واؤپه زیراوپه زَبرسره دَ

مُّقْتَدِرًا ﴿٤٥﴾ اَلْمَالُ وَالْبَنُوْنَ زِيْنَةُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ وَالْبٰقِيٰتُ الصّٰلِحٰتُ خَيْرٌ عِنْدَ رَبِّكَ ثَوَابًا وَّخَيْرٌ
اَمَلًا ﴿٤٦﴾ وَيَوْمَ نُسَيِّرُ الْجِبَالَ وَتَرَى الْاَرْضَ بَارِزَةً ۙ وَّحَشَرْنٰهُمْ فَلَمْ نُغَادِرْ مِنْهُمْ اَحَدًا ﴿٤٧﴾ وَعُرِضُوْا

قدرت لرونکے(٤٥) مالونه او ځامن ډول دَ ژوند دنیوی دے اوباقی پاتے کیدونکی نیك عملونه غوره دی په نیز دَرب ستا په بدله کښے او غوره دی په امید کښے (٤٦) اوپه کومه ورځ چه روان به کړو غرونه او وینے به ته زمکه ډاګه او راجمع به کړو دوی پس پرے به نګدو دَ دوی نه هیڅوك (٤٧) او پیش به کړے شی

الله تعالیٰ په صفت کښ یوشان وی یعنی په معنیٰ دَ قدرت اودَسلطنت دے۔ اودَ مخلوق په صفت کښ ولایت قدرت ته وائي۔ او ولایت دوستانے ته هم وائي ﴿هُنَالِكَ﴾ نه مراد وخت دَعذاب دے که په دنیاکښ وی اوکه آخرت کښ وی ﴿هُوَخَيْرٌثَوَابًا وَّخَيْرٌ عُقْبًا﴾ یعنی کوم اعمال چه دَ الله تعالیٰ دَپاره دی په اخلاص سره نودَهغے ثواب اوعاقبت ځائسته اوغوره وی اولفظ دَخَیر دلته تفضیلی نه دے بلکه صفتی دے یعنی نسبت په کښ بل چاته مقصد نهٔ دے۔

[٤٥] دا تزهید فی الدنیا دے په دویمے طریقے سره هغه دا چه دنیا حقیراوفانی ده په دے باندے غرورکول نه دی پکار۔ اودا فنا اوحقارت ئے بیان کړے دے په طریقه دَمثال سره۔ اودارنګ مثال په سورة یونس (٢٤)کښ هم دے۔ حاصل دَ مثال دا دے لکه باران سره چه ګټراومختلف بوټی رااوخیژی اوبیا څهٔ وخت روستواوچ شی اوذرے ذرے شی اوپه هواګانوسره والوځی نوتش میدان پاتے شی نودارنګ دا دنیا دَ اوبوپشان ده لکه (١) اوبه چه په ځائے نهٔ ټینګیږی (٢) اوپه یو حالت همیشه نه پاتے کیږی (٣) او څوك چه اوبو کښ داخل شی نودَ لوندیدلونه بغیرنهٔ شی پاتے کیدلے۔ (٤) اوچه اوبهٔ برابروی نوفائده ورکوی اوچه دَحدنه تیرے شی نوتباهی کوی نودا ټول حالتونه صفتونه دَدنیاهم دی دنیاهم په یوځائے نه حصاریږی دارنګ دنیا دَ انسان سره په یوحال نه وی حالات ئے بدلیږی دارنګ څوك چه دنیاکښ ورداخل شی نودَ هغے دَفتنے نه نهٔ شی بچ کیدلے۔ دارنګ دنیا داری چه دَحدنه زیاته شی نوسبب دَ تباهئی اوګرځی۔ اومختلف بوټی اشاره ده دَ دنیامختلف قسم مالونوته۔ اوځنګه چه هغه بوټی اوچ شی اووالوځی نودارنګ دَ دنیا مالونه ختمیږی اوفنا کیږی﴿مُقْتَدِرًا﴾ په سبب دَزیادت دَتاسره مبالغه ده په قدرت کښ۔

[٤٦] په دے کښ دَ دنیا دوه اجزائیے ذکرکړیدی چه هغه سبب دَغرورګرځی ﴿اَلْمَالُ﴾ سبب دَجمال اودَ فائدو دے اوتکبر پیداکوی ﴿الْبَنُوْنَ﴾ سبب دَ قوت او دَ زور دے او کله سبب دَ ظلم اوګرځی او دے دواړو ته زینت وئیلے شی ﴿وَالْبَاقِيَاتُ الصَّالِحَاتُ﴾ په دے سره ترغیب الی الاخرت ذکرکوی اومراد دَ دے نه هرعمل صالح دے که قول وی اوکه فعل وی چه په هغے کښ اخلاص اواتباع دَسنت وی نو اخرت دَپاره باقی پاتے کیږی نوپه دے کښ پنځه مونځونه اوټول اعمال صالحه داخل دی اوپه ډیرو روایتونودَ مسند احمدکښ راغلی دی چه دا دغه پنځه کلمات دی سبحان الله، الحمد لِلّٰه، لااله الاالله، الله اکبر، لاحول ولاقوة الابالله ﴿خَيْرٌاَمَلًا﴾ یعنی دَصاحب دَ مال اودَ ځامنوامیدونه به بربادشی اودَ صاحب دَ باقیات صالحات امیدونه به بار اوروی۔

عَلٰى رَبِّكَ صَفًّا ؕ لَقَدْ جِئْتُمُوْنَا كَمَا خَلَقْنٰكُمْ اَوَّلَ مَرَّةٍ ۭ بَلْ زَعَمْتُمْ اَلَّنْ نَّجْعَلَ لَكُمْ مَّوْعِدًا ﴿٤٨﴾
وَوُضِعَ الْكِتٰبُ فَتَرَى الْمُجْرِمِيْنَ مُشْفِقِيْنَ مِمَّا فِيْهِ وَيَقُوْلُوْنَ يٰوَيْلَتَنَا مَالِ هٰذَا الْكِتٰبِ
لَا يُغَادِرُ صَغِيْرَةً وَّلَا كَبِيْرَةً اِلَّآ اَحْصٰىهَا ۚ وَوَجَدُوْا مَا عَمِلُوْا حَاضِرًا ؕ وَلَا يَظْلِمُ رَبُّكَ
اَحَدًا ﴿٤٩﴾ وَاِذْ قُلْنَا لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوْا لِاٰدَمَ فَسَجَدُوْٓا اِلَّآ اِبْلِيْسَ ؕ كَانَ مِنَ الْجِنِّ فَفَسَقَ ع ١٥
عَنْ اَمْرِ رَبِّهٖ ؕ اَفَتَتَّخِذُوْنَهٗ وَذُرِّيَّتَهٗٓ اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِيْ وَهُمْ لَكُمْ عَدُوٌّ ؕ بِئْسَ لِلظّٰلِمِيْنَ
بَدَلًا ﴿٥٠﴾ مَآ اَشْهَدْتُّهُمْ خَلْقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَلَا خَلْقَ اَنْفُسِهِمْ ۪ وَمَا كُنْتُ مُتَّخِذَ الْمُضِلِّيْنَ

رب ستاته صفونه (اوبه وئيلے شی) يقيناً راغلی يئ تاسو مونږ ته لکه چه پيدا کړی ئے مونږ تاسو اول کرت بلکه گمان دے ستاسو چه چرے به مقررنه کړو مونږ تاسو لره نيټه (٤٨) او کيخودلے به شی کتاب (عملنامے) نو وينے به ته مجرمانو لره يريږی به ډهغے نه چه په دے کښے دی او وائی به دوی هائے افسوس دے زمونږ څه وجه ده ډ دے کتاب چه نه دے پريخودلے وړوکے شے اونه لوئے شے مگر راکير کړيدے هغه او اوبه مومی دوی هغه عملونه خپل حاضر اوظلم نه کوی رب ستا په هيڅا باندے (٤٩) اوکله چه اُوئيل مونږ ملائکو ته سجده اوکړئ آدم(عليه السلام) ته پس سجده اوکړه ټولو سيوا ډ ابليس نه دے ژو ډ پيريانونه نونافرمانی ئے اوکړه ډ حکم ډ رب خپل نه ايا پس نيسئ تاسو دے او اولاد ډ دهٔ لره دوستان (په طاعت کولو سره) ځمانه سيوا او دوی ستاسو دُشمنان دی بد دے ظالمانو لره په بدله (ډ اللّٰه تعالیٰ کښے) (٥٠) نه دی حاضر کړی ما دوی لره پيدائش ډ اسمانونو او ډمکے ته اونه پيدائش ډ هم جنسو ډ دوی ته اونه يم څه نيؤونکے گمراه کؤونکو خلقو لره

[٤٧، ٤٨، ٤٩] په دے ايا تونوکښ تخويف اخروی دے اودا ډ تزهيد فی الدنيا دريمه طريقه ده چه ډ دنياغروراومحبت سبب ډعذاب اخروی اوډ افسوس اوګرځی اوپه دے ايا تونوکښ احوال ډقيامت يوولس ذکردی۔ په اول ايت کښ ډ قيامت څلوراحوال ذکردی اودويم ايت کښ ډ قيامت دوه احوال ذکردی۔ يعنی رب ته پيش کيدل په صفونواودوباره ژوند په شان ډحال ډپيدا ئش اول، يعنی بے ماله، ناسنته بے پيزاره، بے جامواسے په حديث کښ راغلی دی۔ اودريم ايت کښ ډقيامت پنځه حالات ذکردی ﴿صَفًّا﴾ په معنی ډ ډير وصفونوسره دے يا ټول به يوصف وی ﴿الْكِتٰبُ﴾ اسم جنس دے په معنیٰ ډ ډيرو کتابونويعنی عملنامے۔

[٥٠] ډ دے آيت نه دويمه حصه ده تر(٩٩) پورے په دے کښ جواب ډ شبهے ډ مشرکانودے چه دليل نيسی په شيطانی خوبونوسره يا نورشيطانی احوالوسره ډپاره ډ اثبات ډ تصرف ډ غيراللّٰه، يعنی وائی چه فلان ولی ماته خوب کښ راغے چه ځما نذرمه قضاء کوه، ځما ډ قبرنه حاجت غواړه، ځما قبرباندے ګنبد جوړ کړه کله وائی چه ما نذرانه ډ ولی پريخودله اوپئے ډ يوولسمے مے ورنکړهٔ نوزماغوا ميخے پئے بندکړل په دے سره تصرف ډ ولی ثابتوی۔ جواب په واقعے ډ آدم(عليه السلام) اوډ ابليس سره دے حاصل ئے دا دے چه دا ابليس ستاسوزورډُشمن دے نودے په داسے خوبونواواحوالوسره په تاسوکښ ډ شرك عقيدے پيداکوی دا په (٥٠، ٥١) کښ۔ بيا تخويف اخروی دے مشرکينوته په (٥٢، ٥٣) کښ، بيا څلورزجرونه دی زجراول په

عَضُدًا ﴿۵۱﴾ وَيَوْمَ يَقُوْلُ نَادُوْا شُرَكَآءِيَ الَّذِيْنَ زَعَمْتُمْ فَدَعَوْهُمْ فَلَمْ يَسْتَجِيْبُوْا لَهُمْ وَجَعَلْنَا

امدادی(۵۱)اوپه کومه ورځ چه اوبه وایو اواز اوکړئ شریکانو ځما ته هغه کسان چه تاسو دعویٰ کوله (چه داشریکان دی) پس دوی به ورته اواز اوکړی نو هغوی به ورله هیڅ جواب ورنکړی او اوبه کړځوو

جدال فی القرآن په(٥٤)کښ دویم زجریه انتظاردَ عذاب په (٥٥)کښ، دریم زجریه جدال په شبهاتوباطلوسره په (٥٦)کښ او څلورم زجریه اعراض عن القرآن سره په (٥٨)کښ بیا تخویف دنیوی دے په (٥٨،٥٩)کښ۔ په دے ایت (٥٠)کښ واقعه دَ آدمﷺ دَ ابلیس سره ده دَپاره دَجواب دَ شبهے دَ مشرکینواودَ دے وجے نه ئے په دے ایت کښ متصل زجرذکرکړے دے په دے قول سره چه ﴿اَفَتَتَّخِذُوْنَهٗ وَذُرِّيَّتَهٗٓ اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِيْ﴾ یعنی ابلیس اودَ هغه اولاد ستاسوزارهٔ دشمنان دی اوتاسو هغوی له دَ الوهیت مرتبه ورکوئیے؟ ﴿كَانَ مِنَ الْجِنِّ﴾ دَ بعضوسلفونه نقل دی چه ابلیس دَ ملائکونه وواودَ مِنَ الجِنِّ په تاویل کښ اولاًوائی چه جن یوقبیله ده دَ ملائکونه دویم تاویل داکوی چه (صارمن من الجن بسبب عمله) په سبب دَانکار سره دَ جناتونه اوګرځیدلو۔ لیکن صحیح دا ده اودَ اکثر سلفونه نقل دے چه ابلیس دَ جن نه دے اوجن غیردے دَ ملائکونه اوداپه ډیرو دلیلونو سره ثابت ده اول دلیل اختلاف دَ دوی په ماده دَ خلقت کښ چه ملائك دَ نورنه پیدا دی اوجن دَ مارج من نارنه پیدا شویدے اودا په حدیث دَمسلم کښ ذکردی۔ دویم دلیل په ملائکوکښ نسل پیداکیدل نه دی ثابت شوی اوپه جن کښ نسلْ او اولاد شته دے لکه لفظ دَ زریته په دے باندے شاهد دے اودریم دلیل په سورة سبا(٤١)کښ دے چه بَل گانُوا یَعبُدونَ الجِنَّ، دا دلالت کوی چه جن دَ ملائکونه غیردے، اونسبت دَ اول قول سلفوته په صحیح سند سره نه دے ثابت شوے او ابن کثیررحمة اللّٰه علیه پدے باندے تفصیلی ردکړے دے ﴿فَفَسَقَ﴾ فسق په اصل لغت کښ وتلوته وئیلے کیږی یعنی دے اُوتلودَ حکم دَ رب نه په نافرمانئے سره ﴿اَوْلِيَآءَ﴾ مراد دَ دے نه دوستان دی په طاعت کولوسره یا مددګاران اومعبودان لکه چه بعضِ خلق دی چه هغوی ته عُبّادُ الشیطان وئیلے شی۔

[٥١] په دے کښ رد دے په هغه چا باندے چه شیاطین دَ اللّٰه تعالیٰ سره شریك جوړوی حاصل دَ رد دا دے چه دوی دَ اسمانونو اودَ زمکے دَپیدائش په وخت کښ موجود هم نه وو اونه دَ خپل جنس والوپه وخت دَپیدائش کښ موجود وواونه اللّٰه تعالیٰ دَ چا مددته محتاج دے نوهیڅ دلیل نیشته دَ دوی دَشرکت دَپاره۔﴿وَمَا كُنْتُ مُتَّخِذَ الْمُضِلِّيْنَ عَضُدًا﴾ لفظ دَ مضلین، قید اتفاقی دے احترازی نه دے ځکه چه اللّٰه تعالیٰ دَ هیچا مدد ته محتاج نه دے۔ اوشیطان خودَ مضلین نه دے نودا قید ئے په دے وجه کیخودویا قید احترازی دے په دے سره ضالین او فاسقین اوباسی چه اللّٰه تعالیٰ کله کله دَ دین تائید په فاجر سړی سره کوی لکه چه حدیث صحیح کښ راغلی دی ان اللّٰه لَیؤید هذا الدین بالرجل الفاجر لیکن مضلین چه خلقو لره ګمراه کوی نو په هغوی سره دَ دین امداد نشی کیدلے۔

بَيْنَهُمْ مَّوْبِقًا ﴿٥٢﴾ وَرَاَ الْمُجْرِمُوْنَ النَّارَ فَظَنُّوْٓا اَنَّهُمْ مُّوَاقِعُوْهَا وَلَمْ يَجِدُوْا عَنْهَا مَصْرِفًا ﴿٥٣﴾
وَلَقَدْ صَرَّفْنَا فِيْ هٰذَا الْقُرْاٰنِ لِلنَّاسِ مِنْ كُلِّ مَثَلٍ ؕ وَكَانَ الْاِنْسَانُ اَكْثَرَ شَيْءٍ
جَدَلًا ﴿٥٤﴾ وَمَا مَنَعَ النَّاسَ اَنْ يُّؤْمِنُوْٓا اِذْ جَآءَهُمُ الْهُدٰى وَيَسْتَغْفِرُوْا رَبَّهُمْ اِلَّآ اَنْ تَاْتِيَهُمْ
سُنَّةُ الْاَوَّلِيْنَ اَوْ يَاْتِيَهُمُ الْعَذَابُ قُبُلًا ﴿٥٥﴾ وَمَا نُرْسِلُ الْمُرْسَلِيْنَ اِلَّا مُبَشِّرِيْنَ وَمُنْذِرِيْنَ

په مینځ دَ دوی کښے ځائے دَ تباهئ (٥٢) او اوبه وینی مجرمان خلق اور لره نو دوی به ګمان اوکړی چه پریوتونکی دی په هغے کښ نو اوبه نه مومی دَهغے نه ځائے دَ اوړیدلو بل خواته (٥٣) او یقیناً قسم قسم بیان کړیدے مونږ په دے قرآن کښے خلقو ته دَ هرقسم بیان نه او دے انسان زیات دَ هرځیزنه په جګړه کولوکښے (٥٤) اونه دے منع کړے خلقو لره دَ ایمان راوړلو نه هر کله چه راغے دوی ته هدایت او دَبخنے طلب کولو دَ رب خپل نه مګر (انتظار کولو) دَ دے خبرے چه راشی دوی ته طریقه دَ پخوانو یاراشی دوی ته عذاب مخامخ (٥٥) اونه لیږو مونږ رسولان مګر زیری ورکؤونکی او ویره ورکؤونکی

[٥٢] پدے آیت کښ تخویف اخروی دے په برائت دَ الِهودَمشرکینودَخپلوعابدینو نه۔ اوپدیکښ ذکردَ صالحینوکسانو دے چه مشرکانوترینه معبودان جوړکړی دی۔ په ورځ دَ قیامت به هغوی دَعابدانونه برائت اوکړی اوامدادهم ورسره نشی کولے نودَشرکاء نه مراد هغه نیکان کسان دی چه شیطانانودَ هغوی عبادت طرف ته دعوت ورکړے وؤ یا مراد دَ دینه معبودان نیکان اوبدان دواړه دی ﴿مَوْبِقًا﴾ ځائے دَهلاکت ته وائي اوهغه ټول جهنم دے اودویم قول دا دے چه دایو کنده ده په جهنم کښ دَ وینوزوو نه اول قول غوره دے او﴿بَيْنَهُمْ﴾ ضمیرراجع دے معبودانواوعابدانوته یاراجع دے مؤمنانواو کافرانوته۔

[٥٣] پدے کښ تخویف اخروی په بیان دَحال دَ عابدانودَ شریکانودے اومطلب دا دے چه دَ جهنم دَ دخول نه وړاندے اور به اُوینی نوپه خوف اوحزن کښ به واقع شی۔

[٥٤] پدے ایت کښ زجردے په اعراض اوپه جدال کولو سره ﴿مِنْ كُلِّ مَثَلٍ﴾ نه مراد دلیلونه او زواجراوتخویفات وغیره دی اولفظ دَ ﴿صَرَّفْنَا﴾کښ اشاره ده چه دا مضامین په مختلفو طریقوسره ذکرکړے شوی دی او﴿جَدَلًا﴾ جدال پدے سورة کښ دَ دے وجے نه ډیرذکرشوے دے چه په دیکښ دَ مجادلینودَ شبهاتوجوابات دی۔

[٥٥] پدیکښ زجردے په ایمان نه راوړلوسره په سبب دَ انتظارکولودَ عذاب سره ﴿اَنْ يُّؤْمِنُوْٓا﴾ کښ توحید منلوته اشاره ده اوپه ﴿يَسْتَغْفِرُوْا﴾کښ دَ شرك نه توبه ویستلوته اشاره ده ﴿سُنَّةُ الْاَوَّلِيْنَ﴾ نه مراد عذاب استیصالی دے چه ټول هلاك شی پشان دَ تیرشووقومونومکذبینو﴿اَوْيَاْتِيَهُمُ الْعَذَابُ قُبُلًا﴾ دَ دے نه مراد عذاب دے په بعضِ کسانوباندے چه یوبل ته ګوری۔

فائده: په سورة اسراء (٩٤)کښ مانع دَ ایمان بالرسول نه ذکرکړے شوے وو اوهغه شبه دَ بشریت وه اوپه دے سورة کښ ئے مانع دَ توحید دَ منلونه ذکرکړے دے چه هغه انتظار دَ عذاب دے۔

وَيُجَادِلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِالْبَاطِلِ لِيُدْحِضُوْا بِهِ الْحَقَّ وَاتَّخَذُوْٓا اٰيٰتِيْ وَمَآ اُنْذِرُوْا هُزُوًا ﴿٥٦﴾ وَمَنْ
اَظْلَمُ مِمَّنْ ذُكِّرَ بِاٰيٰتِ رَبِّهٖ فَاَعْرَضَ عَنْهَا وَنَسِيَ مَا قَدَّمَتْ يَدٰهُ ۭ اِنَّا جَعَلْنَا عَلٰي قُلُوْبِهِمْ
اَكِنَّةً اَنْ يَّفْقَهُوْهُ وَفِيْٓ اٰذَانِهِمْ وَقْرًا ۭ وَاِنْ تَدْعُهُمْ اِلَى الْهُدٰى فَلَنْ يَّهْتَدُوْٓا اِذًا اَبَدًا ﴿٥٧﴾
وَرَبُّكَ الْغَفُوْرُ ذُو الرَّحْمَةِ ۭ لَوْ يُؤَاخِذُهُمْ بِمَا كَسَبُوْا لَعَجَّلَ لَهُمُ الْعَذَابَ ۭ بَلْ لَّهُمْ مَّوْعِدٌ
لَّنْ يَّجِدُوْا مِنْ دُوْنِهٖ مَوْىِلًا ﴿٥٨﴾ وَتِلْكَ الْقُرٰٓى اَهْلَكْنٰهُمْ لَمَّا ظَلَمُوْا وَجَعَلْنَا لِمَهْلِكِهِمْ مَّوْعِدًا ﴿٥٩﴾ ع

او جګړے کوی کافران خلق په باطلو (شبهاتو سره) دپاره دَ دے چه اونړوی په هغے سره حق لره اونیولی دی دوی اٰیاتونه زما اوهغه چه دوی له پرے ویره ورکړے شوے ده ټوقے (٥٦) اوشوك لوئے ظالم دے دَهغه چانه چه ورته یاد کړیشی اٰیاتونه دَرب دَ دهٔ نو مخ واړوی دَ هغے نه او هیرکړی هغه عملونه چه مخکښ لیږلی دی لاسونو دَ دهٔ یقیناً ګرځولی دی مونږ په زړونو دَ دوی باندے پردے (منع کوونکی) دَ پوهے دَ قرآن نه اوپه غوږونو دَ دوی کښے دروندوالے اوکه ته بلنه کوے دَ دوی سمے (برابر) لارے ته نولاربه اونه مومی دغه وخت کښ هیڅرے (٥٧) اوستا رب بخنه کوونکے دے رحمت والا دے که چرے نیولے ئے دوی لره په سبب دَ عملونو دَ دوی نو ذر به ئے ورکړے وے دوی لره عذاب بلکه دوی لره وخت مقرر دے هیڅرے به اونه مومی مخکے دَهغے نه ځائے دَپناهئ (٥٨) اودغه کلی دی چه هلاك کړلُ مونږ دوی هر کله چه ظلم ئے کړے ؤو او مقرر کړے ؤو مونږ دَ دوی هلاکت دپاره وخت مقرر (٥٩)

[٥٦] پدے آیت کښ اولاً حکمت دَ ارسال رسل ذکرشوے دے یعنی رسولان رالیږلے شویدی دَپاره دَ دفع کولودَ عذاب۔ بیا زجردے په جدال کولوسره په باطلوشبهاتوسره اوپه نړولودَ حق سره اوپه استهزاء دَ اٰیاتونوسره ﴿بِالْبَاطِلِ﴾ نه مراد بے دلیله شبهات اواعتراضونه کول دی لکه په سورة غافر (٥٦،٣٥،٥) کښ چه دی ﴿لِيُدْحِضُوْا بِهِ الْحَقَّ﴾ کښ اشاره ده چه دَ دوی شبهات دَ طلب دَ حق دَپاره نه دی بلکه دَحق په ضد اوپه عناد کښ دی ﴿وَاتَّخَذُوْٓا اٰيٰتِيْ﴾ داجواب دَ یووهم دے یعنی که چرے اُوئیلے شی چه دَحق دَپاره خو اٰیاتونه اواحادیث دَ رسولانو موجود دی نودوی ولے جدال کوی په شبهاتوسره؟ حاصل دَ جواب دا دے چه هغه دَ دوی په نیزباندے عبث دی اوسپك ئے ګڼړی یعنی نه ئے آوری۔

[٥٧] پدے کښ زجردے په اعراض کولوسره دَ تذکیردَ قرآن نه ﴿وَنَسِيَ مَا قَدَّمَتْ يَدٰهُ﴾ په دے کښ مراد ترك دَ توبے دے دَ تیرشوی ګناهونونه ﴿اِنَّا جَعَلْنَا﴾ هرکله چه اعراض دَ دوی ئے ذکرکړونواوس فرمائي دَ هغه اعراض په وجے سره دَ دوی په زړونو پردے پیدا شوے نوهمیشه دَپاره دَ تذکیر دَ قرآن نه محرومه شول ﴿فَلَنْ يَّهْتَدُوْٓا﴾ کښ اشاره ده پردودَسترکوته۔

[٥٨] په اٰیت کښ اول ترغیب ذکردے توبے کولوته چه دَ شرك اوکفرنه توبه اوباسئ نواللّٰه تعالیٰ به تاسوته مغفرت اوکړی او رحمت به اوکړی بیا تخویف دنیوی دے منکرینوته اوپه دے اٰیت کښ صفت دَ رحمت اوصفت دَ غضب دَ اللّٰه تعالیٰ دواړه جمع کړیدی لکه په سورة انعام(١٣٣) کښ دی۔

[٥٩] پدے کښ تخویف دنیوی دے په ذکر دَ تیروشوو قومونو سره ﴿تِلْكَ الْقُرٰى﴾ کښ اشاره ده هغه

وَ اِذْ قَالَ مُوْسٰى لِفَتٰىهُ لَاۤ اَبْرَحُ حَتّٰۤى اَبْلُغَ مَجْمَعَ الْبَحْرَيْنِ اَوْ اَمْضِيَ حُقُبًا ﴿٦٠﴾ فَلَمَّا بَلَغَا
مَجْمَعَ بَيْنِهِمَا نَسِيَا حُوْتَهُمَا فَاتَّخَذَ سَبِيْلَهٗ فِي الْبَحْرِ سَرَبًا ﴿٦١﴾ فَلَمَّا جَاوَزَا قَالَ لِفَتٰىهُ اٰتِنَا

او کوم وخت چه اوئیل موسیٰ(علیه السلام) خادم خپل ته ځه به همیشه کرځم تردے چه اورسم ځائے دَجمع کیدلو دَ دؤو دریابونوته اویابه ځم دِیره زمانه (٦٠) پس هر کله چه اورسیدل دواړه ځائے دَیوځائے کیدلو دَ دے دواړوته هیرکړو دواړو مهے خپل نو اونیوله لار خپله په دریاب کښے دَ سورنگ په شکل سره (٦١) پس هر کله چه پورے وتل دواړه اُوئیل دهٔ خدمتګار خپل ته راوړه

کلوته چه مخکښ هلاك کړے شویدی اوهغه اګرچه موجود اومحسوس نه وو لیکن په تلك سره اشاره دَ دے وجے نه اوشوه چه هغه دَ دِیرشهرت دَ وجے نه په شان دَمحسوس دی ﴿لَمَّا ظَلَمُوْا﴾ په دے کښ سبب دَ عذاب ته اشاره ده اوهغه ظلم په (٥٧)کښ ذکرشو ﴿وَجَعَلْنَا﴾ دا دَ مخکنو قومونوپه باره کښ دے او ﴿بَلْ لَّهُمْ مَّوْعِدٌ لَّنْ يَّجِدُوْا﴾ دَ موجوده خلقوپه باره کښ دے۔

[٦٠] دَ دے ایت نه دریمه حصه ده تر(٨٢) پورے په دیکښ جواب دَ شبهے دَ هغه چا دے چه استدلال کوی په امورخارقه للعادة دَ خضر(علیه السلام) سره په قدرت اوتصرف اوعلم غیب دَ هغه باندے اوپه خپلو حاجاتو کښ دَ هغه دَ رابللو دَپاره دا دلیل پیش کوی اووائي یاخضر رامددشه وئیل جائزدی، حاصل دَ جواب دادے چه خضرعبد محتاج ووپه رحمت کښ اللّٰه تعالیٰ ته اوهغه سره علم دَ بعضِ اشیاؤ وو۔ او کوم امورخارقه چه دی دَ هغے جواب دادے ﴿وَمَا فَعَلْتُهٗ عَنْ اَمْرِيْ﴾ چه په دے کارونو کښ زما هیڅ اختیارنهٔ وو۔ بیا په دے واقعه کښ اموردی دَپاره دَ بچ کیدلودَ عذاب نه چه هغه به په ضمن دَ واقعه کښ ذکرکیدے شی۔ اودا هجرت دَ موسیٰ(علیه السلام) دے دَپاره دَ طلب دَ علم اودا په حکم دَ اللّٰه تعالیٰ سره وو چه اللّٰه تعالیٰ ورته دَ خضر ځائے اوخودو اودَ هغه نه دَ استفادے امر ئے ورته کړے وو۔ اودا په حدیث صحیح کښ تفصیلاً ذکرشویدی۔ په دے(٦٠)کښ اشاره ده چه هیچا لره دَعلم او زیادت حاصلول په علم کښ دَ دینه بے پرواه کیدل نه دی پکار﴿لِفَتٰىهُ﴾ نوم دَ هغه یوشع بن نون دے اواشاره ده چه په سفرکښ ځوان ملګرے پکار دے ﴿لَاۤ اَبْرَحُ حَتّٰى﴾ په دے کښ اشاره ده چه انسان له په طلب دَ علم کښ دِیرکوشش صرف کول پکاردی که یوځائے کښ حاصل نه شی نوبل ځائے ته دے لاړشی ﴿مَجْمَعَ الْبَحْرَيْنِ﴾ دیکښ اقوال دِیردی یوقول دا چه دا مقام طنجه دے اوطنجه مقام دَ اسبانیا اودَ مغرب په منیځ کښ دے اوبحرین نه مراد بحرالابیض المتوسط اوبحرمحیط اطلسی دے او دغه ځائے ته مضیق هم وائي اودَ جبل طارق سره دے۔ دویم دا چه دا مجتمع دَ بحیره روم اوبحیره فارس دے اول قول دِیر مناسب دے ﴿اَوْ اَمْضِيَ حُقُبًا﴾ حقب دِیرے زمانے ته وئیلے شی اوصحیح دا ده چه دَ هغے معین مقدارنیشته او اشاره ده چه دَ علم دَپاره سفرکول عبادت دے۔

[٦١] ﴿نَسِيَا حُوْتَهُمَا﴾ دا مهے ئے توشه دان کښ راخستلے وو چه دَ دوی توبنه وی په وخت دَ ضرورت کښ۔اشاره ده چه په سفرکښ دَپاره دَ طلبِ علم توبنه راخستل بهتر دی اوموسیٰ(علیه السلام) ته دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه په وحی سره خودلے شوے وه چه دامهے چه کوم ځائے کښ ستاسونه روك شی هغه ځائے کښ به خضر(علیه السلام) ملاویږی۔ نوچه موسیٰ(علیه السلام) اوده شواویوشع ویخ ناست وونوناګاهه مهی دَتوبنه دان نه

غَدَآءَنَا ز لَقَدْ لَقِيْنَا مِنْ سَفَرِنَا هٰذَا نَصَبًا ﴿٦٢﴾ قَالَ اَرَءَيْتَ اِذْ اَوَيْنَآ اِلَى الصَّخْرَةِ فَاِنِّيْ نَسِيْتُ
الْحُوْتَ ز وَمَآ اَنْسٰنِيْهُ اِلَّا الشَّيْطٰنُ اَنْ اَذْكُرَهٗ ۚ وَاتَّخَذَ سَبِيْلَهٗ فِي الْبَحْرِ ۚ عَجَبًا ﴿٦٣﴾ قَالَ ذٰلِكَ
مَا كُنَّا نَبْغِ ۚ فَارْتَدَّا عَلٰٓى اٰثَارِهِمَا قَصَصًا ﴿٦٤﴾ فَوَجَدَا عَبْدًا مِّنْ عِبَادِنَآ اٰتَيْنٰهُ رَحْمَةً مِّنْ

ناشته زمونږ یقیناً اورسیدلو مونږه دَ دے سفرنه سترے والی ته (٦٢) اُوئیل دهٔ خبر شه هر کله چه ځائے اونیؤو مونږ کښ ته نو یقیناً ما هیرکړو مهے اونه ؤو هیر کړے زمانه هغه مګر شیطان چه یاداشت مے کړے وے دَهغے اونیوله دهٔ لار خپله په درياب کښے (تعجب کؤوم) تعجب کول (٦٣) اُوئیل موسیٰ(علیه السلام) داهغه دے چه مونږ طلب کؤونو واپس اوګرځیدل دواړه په نخو دَ قدمونو خپلو واپس تلونکی (٦٤) پس اومونږدو دواړو یو بنده دَ بندګانو زمونږ نه ورکړے وه مونږ هغه ته پیغمبری دَ

توپ کړواوپه درياب کښ ورته اوبه اوچے شوے دَ سرنګ پشان اوپه هغے کښ روك شو ﴿نَسِيَا﴾ کښ نسبت دواړوته په دے وجے سره شوے دے چه یوشع نه هیرشول چه موسیٰ علیه السلام ته ئے حال اونهٔ وئیلو اوموسیٰ علیه السلام نه هیرشو چه دَ یوشع نه ئے دَ مهی باره کښ تپوس کړے وے دا دلیل دے چه نسیان دَ نبوت سره منافات نه لری او دلیل دے په دے کښ دَ اللّٰه په قدرت سره په بعث بعدالموت باندے اولطیفه اشاره ده چه کوم ځائے مړمهے ژوندے کیږی نوهلته به علم (چه ژوند دے) حاصلیږی۔

[٦٢] دا دلیل دے په نفی دَ علم غیب دَ موسیٰ علیه السلام نه اوبیان دَعجزدَ هغه دے که دَ مهی دَ حال نه خبروے نودَ هغے ځائے نه به نه تلواونه به ئے دَغداء دَپاره مهے طلب کوو، اوغداء ته محتاج کیدل اوسترے کیدل دلیل دَ عجزاودَ عبدیت دَ موسیٰ علیه السلام دے اوعبد اِلٰه نشی کیدلے ﴿هٰذَا﴾ کښ اشاره ده هغه سفرته چه دَ مجمع البحرین نه ئے روستو کړے وو۔ په دے کښ لطیفه نکته دا ده چه انسان کوم ځائے ته دَ زړه په شوق اومحبت سره مزل کوی نودَ هغے سترے والے نه محسوس کوی اوکوم مزل چه دَ مقصد نه غیرشی نوپه هغے انسان سترے والے محسوس کوی۔

[٦٣] یوشع علیه السلام دَ ادب په طریقه دَ نسیان نسبت صرف ځان ته اوکړو موسیٰ علیه السلام ئے ځان سره په نسبت کښ شریك نه کړو۔ بیائے خپل عذر پیش کړواونسبت دَ نسیان ئے شیطان ته اوکړواګرچه نسیان څه ګناه نه ده۔ لیکن دا قاعده ده چه بعضِ افعال اګر چه معصیت نه وی لیکن دَ هغے په کیدلوشیطان خوشحاله شی دَ دے وجے نه چه په هغے سره مؤحدته تکلیف جوړشی اوشیطان خودَ مؤمن په تکلیف خوشحالیږی لکه موسیٰ علیه السلام چه دَ قتل دَ قبطی نسبت شیطان ته کړے دے په سورة قصص (١٥) کښ هغه هم دَ دے قاعدے دَلاندے دے اونسبت دَ حیض اودَ نفاس دَ زنانه رکض دَ شیطان ته په دے بنا سره دے چه هغه په حدیث صحیح کښ دی۔ دویمه وجه داوه چه کله اسباب دَ نسیان کښ شیطان لره دخل وی نودَنسیان نسبت شیطان ته په اعتباردَ سبب سره اوشی لکه دَ تثاؤب (ارګی کول) نسبت شیطان ته شویدے ځکه دَ هغے سبب چه غفلت دے هغه دَ شیطان په وجے سره دے۔

[٦٤] موسیٰ علیه السلام دَ هغه عذر قبول کړو اوواپس په خپل نقش قدم (مُنډ) باندے راروان شول دَپاره دَ دے چه هغه ځائے ترینه خطانه شی۔

عِنْدِنَا وَعَلَّمْنٰهُ مِنْ لَّدُنَّا عِلْمًا ﴿٦٥﴾ قَالَ لَهٗ مُوْسٰى هَلْ اَتَّبِعُكَ عَلٰٓى اَنْ تُعَلِّمَنِ مِمَّا عُلِّمْتَ

خپل طرف نه اوخودلے وو مونږ هغه ته دَ خپل طرف نه خاص علم (٦٥) اُوئیل دۀ ته موسیٰ(علیه السلام) ایا تابع شم ستا پدے شرط چه تعلیم به راکوے ما ته دَهغے نه چه تاته خودلے شوی دی

[٦٥] دوی چه واپس مجمع البحرین ته را اورسیدل نویوسړے په جامه کښ پټ وواوډه ډه ئے لګولے وه نوموسیٰ علیه السلام سلام پرے اوکړوهغه دَ جواب نه بعد اُوئیل چه دا ناشنا کاردے ځکه چه په دے ملك کښ اکثرخلق دَ دے طریقے دَسلام نه غافل دی اودارنګ اکثرخلق دَ هغه نه مخالف وونوپه هغه باندے ئے سلام نه کوؤ۔ هغه ورته اُوئیل ځه موسیٰ یم، هغه اُوئیل کوم موسیٰ، هغه اُوئیل موسیٰ دَ بنی اسرائیلو ﴿عَبْدًا﴾ اشاره ده چه خضر علیه السلام محتاج بنده ووحقداردَ الوهیت نه دے۔ دَ خضرنوم بلیا بن ملکان ووَسام بن نوح علیه السلام په اولاد کښ وواوخضر ئے لقب ووځکه چه په زمکه باندے کوم ځائے به ناست وواوبیا به دَ هغه ځائے نه پاسیدلونوهغه ځائے به شین زلیدلو۔ خضرۀ شینوالی ته وائي۔ اودے دَ بادشاهانوپه اولادکښ وودَ دۀ پاره کښ دوه اختلافونه دی۔ اول دا دے چه خضرمَلَك وویا رسول وو یاولی ووصحیح دا ده چه نبی وواومفسرقرطبی دلیلونه ذکرکړی دی دَ هغه په نبوت باندے۔ اول دا چه ﴿رَحْمَةً﴾ په معنیٰ دَ نبوت اودَ وحی دے۔ دویم دا چه موسیٰ علیه السلام نبی وواو نبی په علم کښ ولی ته نه محتاج کیږی ځکه چه نبی افضل دے من کل الوجه دَ ولی نه۔ دریم داچه غیرنبی دَ نبی نه اوچت په مرتبه کښ نۀ شی کیدلے۔ اوبعضوخلقو وئیلی دی چه ملك وو لیکن دلیل ئے نیشته دارنګ ځوك وائي ولی وو داهم شاذاو بے دلیله قول دے دویم اختلاف دَ دۀ په بقاء کښ دے یعنی دے تراوسه پورے ژوندے دے اوکه وفات شوے دے دَ محدثینواوعلماؤ محقیقینومسلك دا دے چه هغه وفات شوے دے اودَصوفیاؤ قول دا دے چه هغه ژوندے دے او اول قول صحیح دے دَ هغے دلیلونه تفسیرابن کثیرکښ، اوالبدایه والنهایه لابن کثیرکښ، اوتفسیر روح المعانی وکتاب الردعلی المنطقیین دَ شیخ السلام ابن تیمیه رحمة الله وغیرهم کښ په تفصیل سره ذکرکړے شوی دی اودَحیاة خضر علیه السلام چه ځوك قائل دی دَهغوی سره هیڅ دلیل صحیح نیشته یوحدیث دَتعزیت شته لیکن هغه ضعیف دے اوپدے مسئله کښ امام قرطبی خطا شویدے چه دَحیاتِ خضرقائل دے اوتفسیرابن کثیرکښ دا حدیث چه لوکان موسیٰ وعیسیٰ حیین، دا حدیث غلط دے صحیح حدیث کښ صرف دَ موسیٰ علیه السلام ذکرکړے شوے دے ﴿وَعَلَّمْنَاهُ مِنْ لَّدُنَّا عِلْمًا﴾ دَ دے نه مراد یوقسم علم دے ځکه دا نکره په اثبات کښ راغلے ده نو خصوص غواړی اوهغه علم دَ بعضِ اموروباطنیه دے په سبب دَ وحی سره دلیل دا دے چه دَقصے په آخرکښ فرمائیلی دی ﴿وَمَافَعَلْتُهٗ عَنْ اَمْرِیْ﴾ اوداسے علم دَ بعض امورمستقبله یا علم دَ بعض مغیباتودَتمام انبیاء علیهم السلام دپاره په طوردَ معجزه سره ثابت دے په طریقه دَتفاوت سره۔

فائده: فرقه دَ زنادقه باطنیه په نیزباندے اولیاء او بزرګانو لره علوم باطنیه حاصل دی په سبب دَ صفائیے دَ زړونودَ دوی اوپه سبب دَ دغه علم سره اسراردَ کائناتونه دوی خبریږی اواحکام دَ جزئیاتوهم معلومه ولے شی او حاجت ئے نصوص شرعیه ته نه وی۔ او قیاس کوی دوی په علومودَ خضر علیه السلام باندے۔ اوکله دا قول کوی چه حقیقت غیر وی دَشریعت نه کله وائي چه علم دَ صوفیاؤشریعت ته حاجت نه لری اودَ دے وجے

رُشْدًا ﴿٦٦﴾ قَالَ اِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيْعَ مَعِيَ صَبْرًا ﴿٦٧﴾ وَكَيْفَ تَصْبِرُ عَلٰي مَا لَمْ تُحِطْ بِهٖ خُبْرًا ﴿٦٨﴾
قَالَ سَتَجِدُنِيْٓ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ صَابِرًا وَّلَآ اَعْصِيْ لَكَ اَمْرًا ﴿٦٩﴾ قَالَ فَاِنِ اتَّبَعْتَنِيْ فَلَا تَسْـَٔلْنِيْ
عَنْ شَيْءٍ حَتّٰٓى اُحْدِثَ لَكَ مِنْهُ ذِكْرًا ﴿٧٠﴾ ع فَانْطَلَقَا ۫ حَتّٰٓى اِذَا رَكِبَا فِي السَّفِيْنَةِ خَرَقَهَا ؕ ع ١٢

دَهدایت خبرے (٦٦) اُوئیل دهٔ یقیناً ته وس نه لرے زما سره دَ صبر کولو (٦٧) اوځه رنګ به صبر او کړے ته په هغه ځیز باندے چه ته نه لرے په هغے باندے خبر (٦٨) اُوئیل دهٔ زر دے اوبه مومے مالره که اللّٰه تعالیٰ اوغواړی صبرناك او نافرمانی به نه کؤوم ستا دَهیڅ حکم (٦٩) اُوئیل خضر(علیه السلام) پس که ته زما تابعداری کوے پس تپوس مه کوه زمانه د هیڅ ځیز باره کښے تردے پورے چه بیان به کړم تاته دَهغے نه جواب (٧٠) پس روان شو دواړه تردے چه ځواره شول په کشتئ کښے سورئے ئے کړه

نه دغه متصوفه عبادات پریږدی په دے عذر سره۔ جواب دا دے چه قرآن اوسنت او اجماع دَ سلف وخلف شاهد ده چه معرفت دَ احکام شرعیه ته بله لار نیشته سیوا دَ علم دَ شریعت نه اوځوك چه دا دعویٰ کوی چه په معرفت دَ احکاموشرعیه کښ قرآن اوسنت ته حاجت نیشته نودا زندیق او کافردے اوقیاس دَ دوی په خضر(علیه السلام) صحیح نه دے ځکه چه دَهغه علم په ذریعه دَ وحی دَ اللّٰه تعالیٰ سره وو۔ اوصوفیاؤ سره خووحی نیشته۔ اوموسیٰ(علیه السلام) که په خضر(علیه السلام) اعتراضونه کړی دی دا دَ دے وجے نه چه دَموسیٰ(علیه السلام) دَ شریعت نه دغه کارونه مخالف وواودَ غیب نه خبر نه وو اوپه دے کښ دلیل دے چه کوم عمل چه دَشرعے نه خلاف وی په هغے باندے ضرور اعتراض پکار دے چپ کیدل نه دی پکار اودا معامله دَ موسیٰ(علیه السلام) ده دَ یوپیغمبر سره اوچه معامله راشی په دے طریقه دَ غیر نبی سره نو فرض دی چه په هغه باندے اعتراض اوکړے شی۔

[٦٦] په دے کښ تعلیم دَ ادب دے دَ استاد اودَ عالم سره چه دَ هغه نه دے ضرور اجازت طلب کوی اودَ هغه دِ تابعداری کوی ترحد دَ شرعے پورے ﴿مِمَّا عُلِّمْتَ رُشْدًا﴾ په دے کښ اشاره ده چه استادله پکاردی چه شاګردته صرف دَ هدایت او دَ خیر علم اوښائي بے فائدے دِ دَ هغه وخت نه بربادَوی۔

[٦٧] دا تجربه ده دَ خضر(علیه السلام) علم غیب نهٔ دے یعنی هغه ته دا معلومه ده چه کوم کارونه زمانه صادریږی په وحی دَ اللّٰه تعالیٰ لیکن په ظاهرکښ اولاً دَ شرعے نه مخالف معلومیږی نوموسیٰ(علیه السلام) به ضرور اعتراض کوی۔ اوپه دے کښ اشاره ده چه کوم استاد چه دَ هغه اعمال دَ شرعے نه په ظاهرکښ مخالف وی نودَ هغه نه ضرور تپوس پکار دے۔

[٦٨] په دے آیت کښ دَ تیرشوی آیت علت او دلیل ذکر شوے دے یعنی ځوك چه دَ یوځیزعلم نه لری نوپه هغے باندے صبر هم نشی کولے۔

[٦٩] موسیٰ(علیه السلام) دَ ظاهرپه لحاظ سره دَصبروعده اوکړه اومعلق ئے کړه په انشاء اللّٰه سره اواشاره ده چه شاګرد له دَ استاد دَ حکم نافرمانی کول جائزنه دی۔

[٧٠] اشاره ده چه استاد په شاګرد باندے مناسب شرطونه لازم کولے شی او دا دَ متعلمینودپاره عام شرط دے چه دَ استاد دَ خبرے دَ پوره کولو انتظار پکار دے دَ خبرے په مینځ کښ را دنګل اودخل کول مناسب نه دی۔

قَالَ اَخَرَقْتَهَا لِتُغْرِقَ اَهْلَهَا ۚ لَقَدْ جِئْتَ شَيْـًٔا اِمْرًا ﴿٧١﴾ قَالَ اَلَمْ اَقُلْ اِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيْعَ
مَعِيَ صَبْرًا ﴿٧٢﴾ قَالَ لَا تُؤَاخِذْنِيْ بِمَا نَسِيْتُ وَلَا تُرْهِقْنِيْ مِنْ اَمْرِيْ عُسْرًا ﴿٧٣﴾ فَانْطَلَقَا ۫ حَتّٰٓى
اِذَا لَقِيَا غُلٰمًا فَقَتَلَهٗ ۙ قَالَ اَقَتَلْتَ نَفْسًا زَكِيَّةًۢ بِغَيْرِ نَفْسٍ ۭ لَقَدْ جِئْتَ شَيْـًٔا نُّكْرًا ﴿٧٤﴾

اُوئیل موسیٰ(علیہ السلام) ایا سورے دے کړله دا دے دپاره چه غرق کړے سواره دَ دے یقیناً راتله دے اوکړل کار ډیر عجیبه ته (۷۱) اُوئیل هغه ایا نۀو وئیلی ما چه ته چرے طاقت نه لرے ماسره دَ صبر کولو (۷۲) اُوئیل موسیٰ(علیہ السلام) مه نیسه ما لره په هغه کار چه ما په هیره اوکړو اومه اچوه په ما باندے دَ کار ځما نه تنګسیا (۷۳) پس روان شول دواړه تردے چه کله مخامخ شول یو ځوان سره نو قتل ئے کړو اُوئیل موسیٰ(علیہ السلام) ایا اُوژلوتا یو نفس پاك بے دَ بدلے دَنفس نه یقیناً راتله دِ اوکړه کار ډیر بدته (۷٤)

[۷۱] دَ دے ځائے نه سفرعلمی دَ دے دواړوشروع شواودَ یوشع(علیہ السلام) ذکرپکښ دَ دے وجے نه نیشته چه هغه تابع وواودَ تابع ذکرته ضرورت نه وی۔ اوځوك وائي چه بغیردَ اجازت دَ خضر(علیہ السلام) نه ئے آب حیات اوبه اوڅښکلے اوهغه دریاب ته او غورزوواوهغه دَ هغے په چپوکښ ژوندے دے ترقیامته پورے دا موضوعی اواسرائیلی روایات دی۔ اوظاهردا ده چه خضر(علیہ السلام) دَ دعوت دَ توحید دَپاره کړځیدلواودا واقعات به په لارکښ پیش راتلل نوخضراوموسیٰ دَ دریاب غاړے ته راغلل اوارادہ ئے اوکړه چه دَ دریاب پورے طرف ته ورزونوکشتئ کښ سواره شول چونکه کشتئ دَمؤحدینومساکینو وه هغوی خضر(علیہ السلام) اوپیژندو چه دے خودَ دعوت دَ دین دَپاره ځی نوهغوی ترے نه کرایه وانخستله۔ اوداسے اخلاق پکار دی مسلمانانولره چه دَ عالم حق پرست اودَ داعی دَ دین داسے رعایت اوکړی۔ هرکله چه دوی کشتئ کښ دَ دریاب مینځ ته شول نوخضر(علیہ السلام) په (قدوم) تبرسره دَ هغے نه یوتخته ماته کړه اوسورئے ئے کړله۔ نوموسیٰ(علیہ السلام) دَ شرعی جذ بے په بنابانديے په هغه باندے اعتراض اوکړواووعده دَ صبرکولوترینه هیره شوه اووجه دَ اعتراض کولومخکښ بیان کړے شوه ﴿لِتُغْرِقَ اَهْلَهَا﴾ داپه اعتباردَ ظاهر سره غایه دَتختے ویستلوده اولام دَغایة دَپاره دے علت دَپاره نه دے او په اعتبار دَ خرق عادت معجزے سره کشتئ غرقه نه شوه اوحدیث کښ راغلی دی چه یو چنچړه راغله اودَکشتئ په غاړه کیناسته اوپه مخوکے سره ئے اوبه دَ سمندرنه راواخستلے نو خضر(علیہ السلام) اُوئیل موسیٰ(علیہ السلام) ته چه زما اوستا علمونه چه راجمع شی نودَ هغے نسبت علم دَ اللّٰه تعالیٰ ته داسے دے لکه دَ دے مرغئ په مخوکه پورے چه کومے اوبه لګیدلے دی اونسبت ئے ټول سمندرته واخلے۔پدیکښ اشاره ده چه انبیاء علیهم السلام په علم کښ دَ اللّٰه تعالیٰ سره برابرنۀ شی کیدلے۔

[۷۳،۷۲] په دے کښ یادول دَ خضر(علیہ السلام) دی موسیٰ(علیہ السلام) ته وعده دَ هغه اودَ هغه دَطرف نه عذردَ نسیان پیش کړے شو، په دے کښ اشاره ده چه په نسیان باندے مواخذه اوګناه نیشته او﴿وَلَا تُرْهِقْنِيْ مِنْ اَمْرِيْ عُسْرًا﴾ سره اشاره ده چه ځوك مواخذه کوی په نسیان سره نوهغه تنګسیا کوی۔

[۷٤] هرکله چه دوی روغ اوسالم دَ دریاب نه پورے لاړل نونوجوانان ئے اولیدل چه هغوی لوبے کولے نوخضر(علیہ السلام) دَ دوی طرف ته لاړواویونوجوان ئے اونیولواودَ هغه سرئے په ګټه سره مات کړو او بیا په زمکه باندے ئے واچوواوذبح ئے کړو اوسرئے ترینه په لاس سره جداکړو(په دے توجیه سره دَ مختلفو

قَالَ اَلَمْ اَقُلْ لَّكَ اِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيْعَ مَعِيَ صَبْرًا ﴿٧٥﴾ قَالَ اِنْ سَاَلْتُكَ عَنْ شَيْءٍ بَعْدَهَا فَلَا تُصٰحِبْنِيْ ۚ قَدْ بَلَغْتَ مِنْ لَّدُنِّيْ عُذْرًا ﴿٧٦﴾ فَانْطَلَقَا ۟ حَتّٰٓى اِذَآ اَتَيَآ اَهْلَ قَرْيَةِ ِۨ اسْتَطْعَمَآ اَهْلَهَا فَاَبَوْا اَنْ يُّضَيِّفُوْهُمَا فَوَجَدَا فِيْهَا جِدَارًا يُّرِيْدُ اَنْ يَّنْقَضَّ فَاَقَامَهٗ ۭ قَالَ لَوْ شِئْتَ لَتَّخَذْتَ عَلَيْهِ

اُوئيل هغه ايا مانوو وئيلى تاته يقيناً ته چرے طاقت نه لرے ما سره دَ صبر كولو (٧٥) اُوئيل موسىٰ(عليه السلام) كه ما تپوس اوكړو ستانه دَيوكار په باره كښے پس دَ دے نه پس مالره مه ملګرے كوه يقيناً اوبه رسے ته دَ طرف زما نه عذرته (٧٦) پس روان شول دواړه تردے چه كله راغلل(را اورسيدل) يوكلى والوته نو خوراك ئے اوغوختلو دَ اوسيدونكو دَ هغے نه نو هغوى انكار اوكړوچه ميلمستيا وركړى دے دواړو ته پس اومونډلو دوى په هغے كښے ديوال نزدے ؤو چه پريوتلے وے نو نيغ ئے كړو اُوئيل موسىٰ(عليه السلام) كه تاغوښتے وے نو اخستلے به دے وے په دے باندے

روايتونوتطبيق اوشو) موسىٰ(عليه السلام) ته داهم خلاف دَحكم شرعى نه ښكاره شوه ځكه چه په دے غلام باندے دَ ارتداد يا دَ قصاص يابل حق شرعى اثبات په دليل اوګواهانو سره نه وؤكړے شوے دَ دے وجے نه ئے زَكِيَّةً اوفرمائيل اوهركله چه دَ شرعے نه خلاف ښكاره شوه نوبيا ئے اعتراض اوكړو۔

فائده (١): دا غلام دَ بعضومفسرينوپه نيز نابالغ وړوكے وواودليل ئے دا دے چه (زكية) وئيلے شوى دى۔ اواكثراهل علم وائي چه دے بالغ ووځكه چه روستو راځى چه په دے غلام كښ طغيان اوكفروو۔اودا دَبالغ صفت وى اودارنګ قتل كول دَ نبى دهٗ لره دليل وو چه دے مستحق دَ قتل وواونا بالغ خومكلف نهٗ وى۔ اوپه دے مقام كښ امام سرخسى په مبسوط (ج:١، ص:٣٠)كښ دَ امام طحاوى نه يومحاكمه دَ قولينوذكركړے ده هغه دا ده چه دا غلام دَعمرپه لحاظ سره نا بالغ وواودَ عقل په لحاظ سره بالغ وواوپه هغه زمانه كښ بلوغ په عقل سره معتبروو نهٗ په عمرسره اودا قول غوره دے۔

فائده (٢): په اول كرت كښ ئے اُوئيل امراً اوپه دويم ځل كښ اُوئيل نُكراً په ديكښ فرق دا دے چه امراً هغه كارته وائى چه لږ ناكاره اوبدوى اونكراً ديته وائي چه بدى اوناكاره والے ئے ډيروى نوپه اول كرت څه نقصان اونه شونوامراً ئے اُوئيل اوپه دويم ځل كښ نقصان اوشوځكه چه غلام قتل كړے شونو لفظ دَ نكراً مناسب ووااودارنګ امراً هغه ځائے مستعمليږى چه هيبت ئے ډيروى اګرچه واقع نه وى اونكراً هغه ځائے مستعمليږى چه فساد ئے ښكاره شى۔

[٧٥] پدے ځل ئے لَكَ لفظ زيات كړو دَ وجے دَ ترقئى نه په غصه كښ۔

[٧٦] ﴿فَلَا تُصَاحِبْنِيْ﴾ كښ اشاره ده چه دوه كرته پورے دَ انسان عذر قبلولے شى ليكن په دريم ځل بيا عذرختم شى۔ او حديث كښ راغلى دى چه رحم دَ اللّٰه تعالىٰ دے وى په موسىٰ(عليه السلام) باندے چه صبرئے كړے وے (چه دا شرط ئے نه وے لګولے) نومونږپه نورعجائبات اوريدلے وے۔

اَجْرًا ﴿٧٧﴾ قَالَ هٰذَا فِرَاقُ بَيْنِيْ وَبَيْنِكَ ۚ سَاُنَبِّئُكَ بِتَاْوِيْلِ مَا لَمْ تَسْتَطِعْ عَّلَيْهِ صَبْرًا ﴿٧٨﴾ اَمَّا السَّفِيْنَةُ
فَكَانَتْ لِمَسٰكِيْنَ يَعْمَلُوْنَ فِي الْبَحْرِ فَاَرَدْتُّ اَنْ اَعِيْبَهَا وَكَانَ وَرَآءَهُمْ مَّلِكٌ يَّاْخُذُ كُلَّ سَفِيْنَةٍ

مزدوری (۷۷) اُوئیل هغه داوخت دَ جدائیے دے په مینځ ځما اومینځ ستا کښے زر دے خبر درکړوم تاته په حقیقت دَ هغه چه وس نه لرلو تا په هغے باندے دَ صبر کولو (۷۸) هر چه کشتئ وه نووه دَ مسکینانو دپاره چه مزدوری کوله په هغے باندے په دریاب کښے نو اوغوښتله ما چه نقصانی کړم هغه ځکه چه ؤو د دوئ مخے ته بادشاه چه نیوله ئے هره روغه کشتئ

[۷۷] ﴿اِسْتَطْعَمَآ﴾ مراد دَ دے نه طلب دَ ضیافت دے لیکن اطلاق دَطعام ئے پرے کړے دے اوروستوئیے پرے اطلاق دَ ضیافت کړے پدے کښ اشاره ده چه یوقسم خوراك مسمّٰی کیږی په طعام سره چه نسبت ئے اوکړے خوراك کوونکوته اومسمّٰی کیږی په ضیافت سره چه نسبت ئے اوکړے کوروالاته۔

فائده: دارنګ په فقه کښ په باره دَ طَعَام المَیِّت، کښ (چه بدعت قبیحه دے) دَ اتخاذ الضیافة لفظ دے اودَ طعام الطعام لفظ هم مستعمل دے اومراد ترینه خیرات دَ مړی دَکوره دے که په هرتعبیرسره ذکرکړے شی اوبالاتفاق هغه بدعت اوکاردَجاهلیت دے۔ په دے ایت کښ دلیل دے چه په وخت دَ لوږے کښ طلب دَطعام جائزدے اودا منافی نه دے دَحال دَنبوت سره۔

فائده: موسیٰ علیه السلام چه هرکله مدین ته اورسیدواودَشعیب علیه السلام لونړوله ئے ځاروی اوبه کړل نودَهغوی نه ئے طعام نه طلب کووادلته ئے طلب اوکړو۔ پدیکښ اشاره ده چه انسان یوائے چه وی نوپه عزیمت باندے دِ عمل کوی۔ لیکن چه ملګرو سره وی نودَ هغوی دَ لحاظ په وجه باندے په رخصت طریقه دِ عمل کوی۔ اوداهم کیدیشی چه هلته کښ لوږه ډیره نه وه نوطلب مناسب نه وو۔ اودلته لوږه زیاتهٔ وه نودَ دے وجے نه ئے طلب اوکړواوپه دے کښ حکمت دا دے چه هغه سفردَهجرت وؤ بناوؤصرف په نصرت اومدد دَ اللّٰه تعالیٰ باندے او دلته سفر دَ تادیب دے نوډیرمشقت ئے پرے راوستلو۔ اودے کلی والوکښ بخل اولؤم وؤ لیکن لوی مانع دَ دوی شرك اوکفروؤ چه خضر علیه السلام ئے پیژندلوچه دا داعی دَتوحید دے نودَهغه نه ئے نفرت کوؤ ﴿لَوْ شِئْتَ لَاتَّخَذْتَ عَلَيْهِ اَجْرًا﴾ دلته دَاعتراض دَ موسیٰ علیه السلام مراد دا ووچه دا مشرك اولئیم قوم دے (اوخیال ئے دا وؤچه دا دیوال دَ دوی دے) دَ دوی سره ولے احسان کوے بلکه دَ ضرورت په بنا باندے دَ دوی نه به دے اجرت اخستلے وے۔ دویم مراد دا دے چه هرکله ته دَ دیوالونوجوړولوطریقه باندے پوهیدے نوپه دے جوړولو به دے اجرت اخستلے وے اوپه هغے باندے به موطعام اخستلے وے طلب کولوته ضرورت نه وؤ۔

[۷۸] دا کلام دَ خضر علیه السلام دے په موافق دَ هغه شرط چه موسیٰ علیه السلام وئیلے وؤ۔ اوخضر علیه السلام جوابات دَ دے وجے ورکوی چه داګمان اونکړیشی چه خضر علیه السلام واقعی دَ شرعے خلاف کارونه کړی دی۔ پدیکښ اشاره ده چه کله یوانسان باندے نور خلق بهتانونه وائي نوپه هغه باندے واجب دی چه خپله صفائي اوکړی۔

لطیفه: بعضے مفسرینواشاره کړیده چه موسیٰ علیه السلام پخپلوتیرشوؤ حالاتو باندے غور اونکړو یعنی هیرئے وؤ ګنی نودا اعتراضونه به ئے نه کولے هغه دا چه دَکشتئ بچ کیدل سرهٔ دَ سوری کیدلونه په دے نمونه بچ

غَصْبًا ﴿٧٩﴾ وَاَمَّا الْغُلٰمُ فَكَانَ اَبَوٰهُ مُؤْمِنَيْنِ فَخَشِيْنَآ اَنْ يُّرْهِقَهُمَا طُغْيَانًا وَّكُفْرًا ﴿٨٠﴾ فَاَرَدْنَآ اَنْ
يُّبْدِلَهُمَا رَبُّهُمَا خَيْرًا مِّنْهُ زَكٰوةً وَّاَقْرَبَ رُحْمًا ﴿٨١﴾ وَاَمَّا الْجِدَارُ فَكَانَ لِغُلٰمَيْنِ يَتِيْمَيْنِ فِى الْمَدِيْنَةِ
وَكَانَ تَحْتَهٗ كَنْزٌ لَّهُمَا وَكَانَ اَبُوْهُمَا صَالِحًا ۚ فَاَرَادَ رَبُّكَ اَنْ يَّبْلُغَآ اَشُدَّهُمَا وَيَسْتَخْرِجَا كَنْزَهُمَا ۖ رَحْمَةً

په زور سره (۷۹) او هر چه ځوان ژو نو ژو مور او پلار دَ هغه مؤمنان نو اویریدلو مونږ چه اوبه غور ځوی دے دواړو لره په زور سره سرکشئ او کفر کښے (۸۰) نو اوغوښتله مونږ چه بدل به ورکړی دوی لره رب دَ دوی غوره دَ دهٔ نه په پاکئ (دَعقیده او دَعمل کښے) او ډیر نزدے په رحم کولو کښے (په مور او پلار باندے) (۸۱) اوهرچه دیوال ژو نو وو دَ دؤو هلکانو یتیمانو په بنارکښ او وه لاندے دَ هغے نه خزانه دَ دے دواړواو ژو پلار دَ دوی نیك سړے نو اوغوښتله ستا رب چه اورسی دوی ځوانئ خپلے ته او را اوباسی به خزانه خپله دَ وجے دَ رحمت

کیدل دَ موسیٰ علیه السلام هم وو دَ غرق نه کله چه مورپه صندوق کښے اچولے وؤ اوپه دریاب کښے ئے لاهوکړے وو۔ اومعامله دَ قتل دَ غلام داسے وه لکه چه موسیٰ علیه السلام قبطی لره قتل کړے وؤ۔ اومعامله دَ جوړولو دَ دیوال بلا اجرت داسے وه لکه چه موسیٰ علیه السلام دَ شعیب علیه السلام لونړوله څاروی اوبه کړی ووبغیرد طلب دَ اجرت نه۔

[۷۹] حاصل دا دے چه په کشتئ کښ عیب جوړول دَ ډیرے فائدے دَپاره وؤځکه که داجوړه وے نوظالم بادشاه به په کار بیګارسره نیولے وے اودَ دے مسکینانودَ روزئے سبب به برباد شوے وواودا مسکینان مؤحدین هم وؤ۔ په دے کښ اشاره ده چه دَ مسکینانودَمال دَ ظالمانونه حفاظت پکار دے، اوداسنّت د انبیاؤعلیهم السلام دی۔ دویم اشاره ده چه دَ ډیرے فائدے دَپاره لږنقصان برداشت کول پکاردی۔ دارنګ دادلیل دے چه مسکین هغه چاته وئیلے شی چه څه مال ورسره وی خودَ نصاب نه کم وی دارنګ دَ امدن ذریعه وی لیکن صرف ګذاره وربانده کیږی ﴿كُلَّ سَفِينَةٍ﴾ مراد دَ دے نه هره روغه کشتئ ده۔

[۸۰] دَ دے حاصل دا دے چه داځوان سرکش کافروؤاومواوپلار دَ دهٔ مؤمنان وونویره داوه چه دے به په زورسره مواو پلارکافران اومشرکان کړی اودَ دهٔ نه خوامید دَایمان راوړلوختم شویدے په دلیل دَ حدیث سره چه (الغلام الذی قتله صاحب موسیٰ طبع کافرًا) مفهوم دا دے چه دے مهرزده کافروؤ۔ بعض شارحین حدیث دَ دے حدیث په معنیٰ کښ خطاشویدی هغه وائي چه دا غلام کافرپیدا شویوؤاوداځکه خطا معنیٰ ده چه دَ قرآن ایت فطرة الله الّتی فطرالناس علیها اودَحدیث کل مولود یولد علی الفطرة سره تعارض راځی۔ اوپه دے کښ اشاره شوه چه هر موذی په مناسب طریقه سره ختمول پکار دی دَپاره دَ دے چه مخلوق ئے دَ شرنه بچ شی ﴿طُغْيَانًا وَّكُفْرًا﴾دا دواړه صفتونه دَهغه غلام وونومفعول له دے یا طغیان اوکفردَ والدینومراد دے اوپه معنیٰ دَ علی الطغیان والکفردے۔

[۸۱] اشاره ده چه الله تعالیٰ کله دَ شرپه ځائے خیرپیداکوی یعنی دَ شردَ لرے کولو نتیجه خیروی اومفسرینو ذکرکړی دی چه دغه مواوپلار له دَ دهٔ په بدل کښ الله تعالیٰ لور ورکړه اودَ هغے نکاح دَیوپیغمبرسره اوشواوځوئے دَ هغے نه پیدا شواوهغه هم نبی وؤ۔ اوبعضو وئیلی دی چه دَ هغے په نسل کښ

مِّنْ رَّبِّكَ ۚ وَمَا فَعَلْتُهٗ عَنْ اَمْرِىْ ۭ ذٰلِكَ تَاْوِيْلُ مَا لَمْ تَسْطِعْ عَّلَيْهِ صَبْرًا ۝٨٢ وَيَسْـَٔلُوْنَكَ عَنْ ذِى الْقَرْنَيْنِ ۭ

دَ رب ستا نه اونه دے کړے مادا کار په خپل اختیار سره داحقیقت دَ هغه ژوو چه وس نه لرلو تاپه هغے باندے دَ صبر کولو(۸۲) او تپوس کوی دوی ستانه په باره د ذوالقرنین کښے

دولس پیغمبران پیدا شول۔

[۸۲] حاصل دَ دے دا دے چه دَ دے کلی عام خلق اګرچه مشرکان وؤ لیکن دا دیوال دَ مؤحدینو وواوهغه یتیمان دی اودَ دے لاندے خزانه وه که دا دیوال غورځیدلے وے نوهغه خزانه به ښکاره شویے اوظالمانودَ دے کلی به تالاکړے وے نودَ یتیمانودَ مال حفاظت دَ ظالمانونه دادَ انبیاؤ کاردے۔ اوس هم ډیرظالمان شته چه دَمسکینانواودَ یتیمانانومالونه په ظلم سره خوری اهل حق علماؤباندے لازم دی چه دا مسکینان اویتیمانان دَ دغه ظالمانودَلاس نه بچ کړی ﴿وَكَانَ اَبُوْهُمَا صَالِحًا﴾ دا علت دے دَ حفاظت دَ خزانے دَ دغه یتیمانانو یعنی جواب دَسوال دے سوال دا دے چه دنیا کښ ډیریتیمان شته اوحال دا چه دَ هغوی دَ مال حفاظت شرعاً لازم نه دے۔ حاصل دَ جواب دا دے چه مسئله دا ده چه اولاد نابالغ په حکم دَ والدینوکښ وی په احکام دنیویه کښ یعنی چه والدین ئے کافروی نو دا اولاد هم تبعاًپه احکامودنیویه کښ کافروی اودَ هغوی دَ مال حفاظت لازم نه دے لیکن دا یتیمان چه وؤ دَ دوی پلارمؤحد مؤمن وؤ نودوی هم تبعاً مؤمنان وو دَ دے وجے نه دَ دوی دَ مال حفاظت شرعًا لازم دے۔ بعضِ مبتدعین دَ دے نه استدلال کوی چه دَ دے ایت نه وسیله ثابت شوه۔ جواب دا دے چه په دے کښے وسیله شرکیه اوبدعیه نه ثابتیږی بلکه دَ مسئلے شرعی په وجه سره دَ دوی دَ مال حفاظت او کړیشواودے ته وسیله وئیل جهالت دے هاں اللّٰه تعالیٰ کله دَیوصالح په وجے سره دَ هغه په اولاد باندے اودَ هغه په تابعدارئے کوؤنکو رحم او برکت کوی ﴿وَمَافَعَلْتُهٗ عَنْ اَمْرِىْ﴾ په دے کښ دَ شبهے اصل جواب دے لکه چه ابتدا دَ دے حصّه کښ بیان شول یعنی که څوك شك یا استدلال کوی چه خضرﷺ دَ کشتئ اودَ غلام اودَ خزانے یعنی دَ راتلونکے حالاتونه څنګه خبروؤ۔ نوجواب اوشوچه دا هغه په خپل اختیار او علم سره نه دی کړی۔

فائده۱: ایت ۷۸ کښ تستطع په تا سره ذکر دے اوپه دے ایت کښ تسطع دے بغیرَ تانه دَ دے حکمت دا دے چه هرکله جوابونه نوؤشوی نوپه موسیٰﷺ باندے ثقل وؤاوزیادت دَحرفونودلالت کوی په ثقل معنوی باندے۔ اوهرکله چه جوابونه اوشول نوپه موسیٰﷺ باندے تخفیف اوشونوپه حروفوکښ تخفیف په دے باندے دلالت کوی۔

فائده۲: دَکشتئ په باره کښ اردتُ ذکردے اودَغلام په باره کښ خیر ورکولو دَپاره اردنا ذکر دے اودَجدار دَ اصلاح په باره کښ اراد ربك ذکردے؟ دَ دے حکمت دا دے چه په کشتئ کښ صرف دَ عیب پیداکولوذکردے نوخضرﷺ دَ هغے نسبت کول اللّٰه تعالیٰ ته مناسب اونه ګڼړل نوصرف ځان ته ئے نسبت اوکړواودَ جدار جوړول صرف خیردے نودَ هغے نسبت دَ اللّٰه تعالیٰ سره مناسب دے اوهرچه دَ غلام قتل اودَ هغے بدل کښ دَ خیراولاد ورکول په دے کښ په یوجهت سره خیر دے اوبل جهت سره شردے نودَ هغے نسبت ئے په طریقه دَ اشتراك سره اوکړو۔

قُلْ سَاَتْلُوْا عَلَيْكُمْ مِّنْهُ ذِكْرًا ﴿٨٣﴾ اِنَّا مَكَّنَّا لَهٗ فِى الْاَرْضِ وَاٰتَيْنٰهُ مِنْ كُلِّ شَىْءٍ سَبَبًا ﴿٨٤﴾ فَاَتْبَعَ
سَبَبًا ﴿٨٥﴾ حَتّٰٓى اِذَا بَلَغَ مَغْرِبَ الشَّمْسِ وَجَدَهَا تَغْرُبُ فِىْ عَيْنٍ حَمِئَةٍ وَّوَجَدَ عِنْدَهَا قَوْمًا ؕ قُلْنَا
يٰذَا الْقَرْنَيْنِ اِمَّآ اَنْ تُعَذِّبَ وَاِمَّآ اَنْ تَتَّخِذَ فِيْهِمْ حُسْنًا ﴿٨٦﴾ قَالَ اَمَّا مَنْ ظَلَمَ فَسَوْفَ نُعَذِّبُهٗ ثُمَّ يُرَدُّ

اُوایه خامخا بیانووم په تاسو باندے دَ هغه نه څه خبرے دَ نصیحت (۸۳) یقیناً طاقت ورکړے ؤو مونږ دهٔ لره په زمکه کښے او ورکړے ؤو مونږ دهٔ ته دَهر قسم نه سامان دَ ضرورت (۸٤) پس روان شو په لار (دَ مغرب) (۸۵) تردے چه اورسیدو ځائے دَ پتیدلو دَ نمرته او اومندلو هغه چه پتیدلو په دریاب تور کښے او اومندلو دَ هغے په خوا کښے یو قوم اُوئیل مونږ اے ذوالقرنین یا عذاب ورکړه دوی له اویا داچه اونیسه دَ دوی په باره کښے ښه لار (۸٦) دهٔ اُوئیل هر څوك چه په ظلم (شرك) کښے پاتے شو نوزربه عذاب ورکړو دهٔ لره (په دُنیا کښے) بیا به پیش کړیشی

[۸۳] دَ دے اٰیت نه تر(۱۰۱) پورے ځلورمه حصه ده پدیکښ جواب دَ شبهے دَ هغه چا دے چه دلیل نیسی په احوالودَ ذوالقرنین سره په قدرت او تصرفاتو دَ هغه داسوال هم مشراکانو او یهودیانو پدے وجے سره کړے وؤ چه په هغوی کښ دَ ذوالقرنین کرامات مشهور وؤ اودا دوی دَ هغه قدرت ګنړلو۔ حاصل دَ جواب دا دے چه ذوالقرنین په دے ټولوامورو کښ اللّٰه تعالیٰ ته محتاج وؤ۔ دَ دے وجے نه قاصر وؤ دَ بعضِ لغاتونه په هغے نه پوهیدو لکه په (۹۳) کښ راځی اومحتاج ووامداد دَ خلقوته لکه په (۹۵) کښ بیاتخویف اخروی دے دَ (۹۸) نه تر (۱۰۱) پورے ﴿ذِكْرًا﴾ بیان دَ واقعے دَ ذوالقرنین ئے مسمّٰی کړو په ذکرسره چه په دیکښ تذکیراونصیحت دے۔ اودَ ذوالقرنین په نوم کښ دوه قولونه دی مشهورقول دَ مؤرخینودا دے چه دَ دهٔ نوم اسکندر وؤ اوفارسی وؤ اودَ ابراهیمعليه السلام سره ئے یوځائے طواف دَ بیت اللّٰه کړے وو اوخضرعليه السلام دَ هغه وزیروؤ او په دے وجه سره دَ خضرعليه السلام دَ واقعے نه روستودَ دهٔ واقعه ذکرکوی اودویم قول دا دے چه دَ دهٔ نوم سائرس وؤاودا سے ابوالکلام ازاد په تفسیر ترجمان القران کښ دَ تاریخ په واسطے سره ثابت کړیده هاں کوم اسکندر چه ابن قیلیس المقدونی یونانی او رومی دے نودَ هغه وزیر ارسطو کافروؤ هغه دلته مراد نه دے اودَ ذوالقرنین په لقب کښ ډیراقوال دی غوره قول دا دے چه دَ دُنیا دوه بادشاهئی لوئے دَ دهٔ دَ تسلط دَ لاندے راغلے وے یو روم اوبل فارس۔

[۸٤] پدیکښ اشاره ده چه دَ هغه تمکین اودَ هغه هرقسم اسباب دا دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه وؤ۔ تمکین فی الارض نه مراد په زمکه کښ طاقت اوبادشاهی ورکول دی چه په دشمنانو باندے غالب وی﴿وَاٰتَيْنٰهُ مِنْ كُلِّ شَىْءٍ سَبَبًا﴾ نه مراد اسباب اوذریعے دی دَ ضروریاتودَ فتح اودَ غلبے۔

[۸۵] دَ دے یومعنیٰ دا ده چه روان شوپه یولارباندے یعنی مغربی طرف ته اوداګرځیدل دَ دهٔ هجرت دے دَپاره دَ غالب کولو دَ دین حق۔ نوروان وومغرب طرف ته اوهرکلی کښ دعوت دَ حق ئے ورکوؤ۔ اوچاچه به مخالفت کوونودَ هغه سره به ئے جنګ کوؤ۔ دویمه معنیٰ دا ده چه استعمال ئے شروع کړو دَ بعض اسبابواوذرائعو طرف دَ مغرب ته۔

[۸٦] مراد دَ مغرب الشمس نه اخری مقام دَغروب الشمس نه دے اونه دا امکان لری اودلیل پرے دا دے

اِلٰى رَبِّهٖ فَيُعَذِّبُهٗ عَذَابًا نُّكْرًا ﴿٨٧﴾ وَاَمَّا مَنْ اٰمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَلَهٗ جَزَآءَ ۨ الْحُسْنٰى ۚ وَسَنَقُوْلُ لَهٗ مِنْ
اَمْرِنَا يُسْرًا ﴿٨٨﴾ ثُمَّ اَتْبَعَ سَبَبًا ﴿٨٩﴾ حَتّٰٓى اِذَا بَلَغَ مَطْلِعَ الشَّمْسِ وَجَدَهَا تَطْلُعُ عَلٰى قَوْمٍ لَّمْ نَجْعَلْ لَّهُمْ مِّنْ
دُوْنِهَا سِتْرًا ﴿٩٠﴾ كَذٰلِكَ ؕ وَقَدْ اَحَطْنَا بِمَا لَدَيْهِ خُبْرًا ﴿٩١﴾ ثُمَّ اَتْبَعَ سَبَبًا ﴿٩٢﴾ حَتّٰٓى اِذَا بَلَغَ بَيْنَ السَّدَّيْنِ وَجَدَ

خپل رب ته (پس ډمرکه) نو عذاب به ور کړی ډهٔ ته سخت عذاب (۸۷) او هر چا چه ایمان راوړو اوعمل ئے اوکړو ډ سنت برابر نو ډهٔ لره جنت دے ډ جزا په لحاظ او ضرور وایو به ډهٔ ته ډ کار ډ دین زمونږ نه اسان (۸۸) بیا روان شو په بله لار باندے (۸۹) ترهغے چه کله اورسیدو ځائے ډ ختلو ډ نمر ته اوئے لیدلو چه راختلو په داسے قوم باندے نه وه ورکړے مونږ دوی ته ډ نمر مخے ته هیڅ پرده (۹۰) دغسے (کارئے اوکړو ډ دوی سره په شان ډ مخکے قوم) او یقیناً راګیر کړی ؤو مونږ هغه سامانونه چه ډ ډهٔ سره ؤو په علم خپل کښے (۹۱) بیا روان شوپه بله لار باندے (۹۲) ترهغے پورے چه اورسیدو مینځ ډ دوه غرونو ته اوئے مندلو

﴿تَغْرُبُ فِيْ عَيْنٍ حَمِئَةٍ﴾ یعنی نمرخودَ زمکے نه په ځوچنده سره غټ دے نوپه یوسمندرکښ هغه ځنګه غائب کیدیشی۔ بلکه مراد دا دے چه ډ بحراسودکنارے ته اورسیدوهلته چه انسان بهرته ګوری نو ظاهر کښ معلومیږی چه دا نمرپه سمندرکښ غائب کیږی ﴿عَيْنٍ حَمِئَةٍ﴾ ډ دے نه مراد بحراسود دے اودا قوم اوملك ډیونان مراد دے اودیته لیډیا وئیلے کیدلودَ فارس نه تردغه ملك پورے تقریباً ځوارلس سوه میله فاصله وه ډ ذوالقرنین په نبوت کښ اختلاف دے ځوك چه وائي چه نبی وؤنوقُلنَا په طریقه ډ وحی سره دے اوځوك چه وائي ولی وؤنوقُلنَا په طریقه ډ الهام سره دے ﴿اِمَّآ اَنْ تُعَذِّبَ﴾ مراد دا دے چه هغه له ئیے پوره تمکین او اختیار ورکړو په باره ډ هغه قوم کښ، اوعذاب نه مراد قتل کول اوقیدکول دی اودَ ﴿حُسْنًا﴾ نه مراد احسانی پریخودل یا په فدیه سره معاف کول دی لکه په دے قول کښ (فَاِمَّا مَنًّا بَعْدُ)۔

[۸۷] یعنی ذوالقرنین ډعدل نه کار واخست چه ځوك پس ډ دعوت ډتوحید نه په کفراوشرك باندے باقی وی نوهغوی له به ډ قتل اوقیدولو سزاپه کښ ورکووم او اخرت کښ به اللّٰه تعالیٰ سخته سزا ورکوی۔

[۸۸] اوچاچه توحید اومنواوعمل کښ اخلاص اواتباع ډسنت اوکړه نوهغه لره جزاء ډ حسنیٰ ده او﴿الْحُسْنٰى﴾ نه مراد جنت دے په آخرت کښ ﴿جَزَآءً﴾ تمیزدے یا حال دے﴿يُسْرًا﴾ یعنی دنیاکښ په ډهٔ باندے تکلیف مالا یطاق نشی کیخودلے ځکه چه لایکلف اللّٰه نفسا الا وسعها، اوالدین یسر۔

[۸۹] بیا روان شوپه بله لار یعنی ډ مشرق طرف باندے او هرکلی کښ دعوت ډ دین ئیے کولو۔

[۹۰] دلته هم مراد ډ مطلع شمس نه عین مشرق نه دے ځکه چه هغے ته رسیدل امکان نه لری بلکه داسے ځائے ته او رسیدو چه ابادی ختم وه اومطلع شمس ته نزدے علاقه وه اودا خلق وحشی قبائل وؤاودَمکران اودَ باختریا اوسیدونکی وؤ﴿لَمْ نَجْعَلْ لَّهُمْ مِّنْ دُوْنِهَا سِتْرًا﴾ یعنی ابادئ نه وے اونه ونے وے چه دوی پرے پټ شوے وے اکثربه دوی په غارونو کښ اوسیدل۔

[۹۱] ﴿كَذٰلِكَ﴾ مراد دا دے چه دلته ئیے داسے حکم اوکړو لکه ځنګه چه په مغرب الشمس کښ کړے وؤ﴿وَقَدْ اَحَطْنَا بِمَا لَدَيْهِ خُبْرًا﴾ اشاره ده چه ډ ډهٔ اسباب اومواد دومره ډیروو چه یو اللّٰه تعالیٰ ډ هغے

مِنْ دُوْنِهِمَا قَوْمًا ۙ لَّا يَكَادُوْنَ يَفْقَهُوْنَ قَوْلًا ﴿٩٣﴾ قَالُوْا يٰذَا الْقَرْنَيْنِ اِنَّ يَاْجُوْجَ وَمَاْجُوْجَ مُفْسِدُوْنَ فِي الْاَرْضِ
فَهَلْ نَجْعَلُ لَكَ خَرْجًا عَلٰٓى اَنْ تَجْعَلَ بَيْنَنَا وَبَيْنَهُمْ سَدًّا ﴿٩٤﴾ قَالَ مَا مَكَّنِّيْ فِيْهِ رَبِّيْ خَيْرٌ فَاَعِيْنُوْنِيْ بِقُوَّةٍ
اَجْعَلْ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ رَدْمًا ﴿٩٥﴾ اٰتُوْنِيْ زُبَرَ الْحَدِيْدِ ؕ حَتّٰٓى اِذَا سَاوٰى بَيْنَ الصَّدَفَيْنِ قَالَ انْفُخُوْا ؕ حَتّٰٓى

دَ هغے نزدے یوداسے قوم چه نه ژو نزدے چه پوهه شوے وے په وینا باندے (۹۳) دوی اُوئیل (دَ ترجمان په واسطه) اے ذوالقرنین یقیناً یاجوج او ماجوج ورانے کؤونکی دی په دے ملك کښے نو ایا راجمع کړو تاله خرچه چه جوړ کړے ته په مینځ زمونږ او دَ دوی کښے دیوال (۹٤) هغه اُوئیل هغه چه طاقت راکړے دے مالره دَهغے په وجه رب زما غوره دے نو مدد او کړئ زما په قوت (دَسړو سره) جوړ به کړم ستاسو او دَ دوی تر مینځ دیوال (۹۵) راوړئ ماته ټکړے (جوړے شوے) دَ اوسپنے تردے چه برابر ئے کړلے په مینځ دَ سرونو دَ غرونو کښے دهٔ اُوئیل ښه ئے اوپو کئ تردے پورے

په حال علم لرلو۔

[۹۲] یعنی روان شو په لار دَشمال باندے اولاردَ جنوب ئے نه ده ذکر کړے دَ دے وجے نه چه په هغه زمانه کښ جنوب طرف ته ابادی نه وه یا هغے طرف ته رسیدل گران وو۔

[۹۳] ﴿السَّدَّيْنِ﴾ نه مراد دوه غرونه دی اوپه دے نوم سره دَ دے وجے نه مسمّٰی شوی دی چه هغه هم دَ یاجوج ماجوج دَ بندش دَپاره قدرتی دیوالونه دی صرف مینځ ئے خالی وو۔ دا قوم دَ ذوالقرنین په ژبه نه پوهیدل دا دلیل دے چه ذوالقرنین په هرڅه علم نه لرلو نو ځرنگه دَ اللّٰه تعالیٰ سره شریك جوړیدلے شی۔ ﴿قَوْمًا﴾ دا قوم دوه قسمونه وو یو په مشرق دَ بحر خذر باندے چه هغوی ته کاسپین وئیلے کیدل اوبل قسم ته کولشی وئیلے کیدل چه کاکیشیا سره نزدے وؤ۔

[۹٤] ﴿يَاْجُوْجَ وَمَاْجُوْجَ﴾ دوه قومونه دَ اولاد دَیافث بن نوح علیه السلام نه دی اودَیافث په اولاد کښ ترك، صقلاب، چین وغیره هم داخل دی، اودا ټول مبادی دَ فساد دی لیکن دَ یاجوج ماجوج فساد دَ دوی نه زیات دے اودَ یورپ په اصطلاح کښ دوی ته ګاګ لیګاګ وئیلے کیږی اودَ دوی په باره کښ احادیث صحیحه هم راغلی دی اودَ دوی راتلل دَ قیامت دَ قریبی علاماتونه دی او کله چه دوی دَ دیوال نه را اوځی نو کیدے شی چه چین روس وغیره ټول مفسدان به دَ دوی په ملګرتیا کښ وی ځکه دا ټول په نسبت کښ شریك دی اوپه ټول عالم کښ به سیوا دَحجازمقدس نه فساد خورکړی ﴿فَهَلْ نَجْعَلُ لَكَ خَرْجًا﴾ په دے کښ اشاره ده چه رعیت له پکار دی چه دَ اجتماعی فائدے دَپاره بادشاه نه مدد اوغواړی۔

[۹۵] آیت کښ اشاره ده چه صالح بادشاه دَ رعیت نه بلاضرورت مالونه نه اخلی ځکه چه په دے کښ دَ رعیت تخریب دے هاں دَهغوی نه بدنی معونت طلب کول جائزدی دَضرورت مطابق ﴿سَدًّا﴾ مطلق دیوال ته وئیلے کیږی۔ او ردم هغه دیوال ته وائی چه اجزائے دَیوبل سره متصل کړے شی چه ښه مضبوط شی اوپدے دیوال جوړولو کښ اشاره ده چه په بادشاه لازم دی چه دَ خپل رعیت حفاظت او کړی او دَ ملك نه دَ مفسدانو سد باب او کړی اوپه خپل ملك کښ امن راولی۔

اِذَا جَعَلَهٗ نَارًا ۙ قَالَ اٰتُوْنِيْٓ اُفْرِغْ عَلَيْهِ قِطْرًا ﴿٩٦﴾ فَمَا اسْطَاعُوْٓا اَنْ يَّظْهَرُوْهُ وَمَا اسْتَطَاعُوْا لَهٗ نَقْبًا ﴿٩٧﴾ قَالَ هٰذَا رَحْمَةٌ مِّنْ رَّبِّيْ ۚ فَاِذَا جَآءَ وَعْدُ رَبِّيْ جَعَلَهٗ دَكَّآءَ ۚ وَكَانَ وَعْدُ رَبِّيْ حَقًّا ﴿٩٨﴾ وَتَرَكْنَا بَعْضَهُمْ يَوْمَئِذٍ يَّمُوْجُ فِيْ بَعْضٍ وَّنُفِخَ فِي الصُّوْرِ فَجَمَعْنٰهُمْ جَمْعًا ﴿٩٩﴾ وَّعَرَضْنَا جَهَنَّمَ يَوْمَئِذٍ لِّلْكٰفِرِيْنَ عَرْضًا ﴿١٠٠﴾

چه هغه دیوال ئے دَ اور په شان کړو دهٔ اُوئیل راوړئے ماته چه واړوم په دے باندے تانبه (ویلے کړے شوے) (۹۶) پس دوی وس نه لری چه رااوخیژی په هغے (دیوال) اونه طاقت لری دَ هغے دَ سوری کولو (۹۷) اُوئیل هغه دا خاص رحمت دے دَ طرف دَ رب زمانه پس هر کله چه راشی وعده دَ رب زما اوګرځوی به دا هموار دَ زمکے سره او دا وعده دَ رب ځما یقینی کیدونکے ده (۹۸) او پرے به پردو بعضے دَ دوی په دغه ورځ چه چپے به وهی (ورننوځی) به په بعضو کښے او پوکے به اوکړیشئ په شپیلئ کښے نو راجمع به کړو دوی په جمع کولوسره (۹۹)او ښکاره به کړو جهنم په دغه ورځ کافرانو ته ښه ښکاره (۱۰۰)

[۹۶] دَ اوسپنے بلاکونه ئے جوړکړل۔ هغه ئے دَیوبل دپاسه په داسے طریقے سره سواره کړل چه دَ غرونودَ سرونوسره دیوال برابرشو۔ نوتانبه ئے ویلے کړے وه اودا اوسپنے ئے په اورسره ښه سره کړے نوویلے کړے تانبه ئے په درزونو دَ هغے کښ واچوله نوهرکله چه دیوال سورشونو ټوله تانبه دَ هغے په مینځ کښ منجمده شوه اوکلك دیوال جوړشو۔ تاریخ والو لیکلی دی چه دَ کاکیشیا نزدے په دره داریال کښ یوزورډیوال دے اوهغے ته سدِّ حدیدی وئیلے کیږی ابن جریرد بعضوبادشاهانو واقعات ذکر کړیدی چه هغوی دَ دے په تفشیش کښ کسان لیګلی وؤ اوهغوی لیدلے دے۔

[۹۷] یاجوج ماجوج په هغے باندے نشو ختلے دَ ډیراوچتوالی دَ وجے نه اوسوراخ هم پکښ نشی کولے چه بهرترینه را اوځی دَ ډیرمضبوطوالی دَ وجے نه۔

[۹۸] دا دَ صالح انسان قول وی چه هغه دَ دنیاپه ځیزونوباندے تکبرنه کوی بلکه دَ اللّٰه تعالیٰ احسان ئے ګڼړی اودَ هغے دَ فناکیدلوعقیده لری اوپه قیامت باندے ایمان لری۔ په خلاف دَ هغه کافرچه په دے سورة کښ دَ رجلینوقصه کښ ذکروؤ چه دَ ذوالقرنین په نسبت سره لږ مالدار وؤ لیکن په خپلے مالدارئے ئے تکبرکوؤاودَ فنا اودَقیامت نه ئے انکارکوؤ۔ دَ حدیث صحیح مضمون دا دے چه دَ یاجوج ماجوج په هغه دیوال کښ دَ دووګوتودَمینځ په مقدارسورے کړے شوے دے اوپه قرآن کریم کښ ذکردے چه وَمَا اسْتَطَاعُوْا لَهٗ نَقْبًا؟۔ نوجواب دا دے چه په هغه حدیث دَ بخاری کښ لفظ دَ فُتِحَ (په مجهول صیغه سره دے) نو هغه اللّٰه تعالیٰ کولاؤکړے دے یاجوج ماجوج نه دے سورے کړے۔ اوکله چه قیامت نزدے شی نو اللّٰه تعالیٰ به دیوال باندے دوی له قدرت ورکړی اوهغه به دَ زمکے سره هموارکړی اودوی به دَ افساد دَعالم دَپاره بهر را اوځی لکه چه ورپسے ایت کښ دیته اشاره ده۔

[۹۹] ﴿بَعْضَهُمْ﴾ نه مراد یاجوج ماجوج دی هرکله چه دوی دَ دیوال نه ازادکړے شی اودارنګ په سورة انبیاء:(۹۶) کښ هم دی اودویم قول دا دے چه مراد ترینه عام انسانان دی چه حیران اوپریشان به وی اوشراوفساد به کوی بیا به قیامت قائم شی۔

[۱۰۰] دَ دخول دَ جهنم نه وړاندے ښکاره کول سبب دَ سخت والی دَ عذاب دے۔

الَّذِيْنَ كَانَتْ اَعْيُنُهُمْ فِيْ غِطَآءٍ عَنْ ذِكْرِيْ وَكَانُوْا لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ سَمْعًا ﴿١٠١﴾ اَفَحَسِبَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَنْ
يَّتَّخِذُوْا عِبَادِيْ مِنْ دُوْنِيْٓ اَوْلِيَآءَ ۭ اِنَّآ اَعْتَدْنَا جَهَنَّمَ لِلْكٰفِرِيْنَ نُزُلًا ﴿١٠٢﴾ قُلْ هَلْ نُنَبِّئُكُمْ بِالْاَخْسَرِيْنَ
اَعْمَالًا ﴿١٠٣﴾ اَلَّذِيْنَ ضَلَّ سَعْيُهُمْ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَهُمْ يَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ يُحْسِنُوْنَ صُنْعًا ﴿١٠٤﴾ اُولٰۗىِٕكَ الَّذِيْنَ
كَفَرُوْا بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ وَلِقَاۗىِٕهٖ فَحَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ فَلَا نُقِيْمُ لَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَزْنًا ﴿١٠٥﴾ ذٰلِكَ جَزَاۗؤُهُمْ

دا هغه کسان دی چه وے دَ دوی سترګے په پرده کښے دَ ذکر زمانه او ژو دوی چه وس ئے نه لرلو دَ اوریدلو دَ حق (۱۰۱) ایا ګمان کوی کافران چه اونیسی بندګان زمازما نه سیوا مددګاران یقیناً تیار کړے دے مونږ جهنم کافرانو لره تیاره میلمستیا (۱۰۲) اُوایه ایا خبر درکړم تاسوته په باره دَ تاوانی عمل والو (۱۰۳) دا هغه کسان دی چه برباد دے عمل دَ دوی په ژوند دَ دنیا کښے او دوی ګمان کوی چه یقیناً دوی خائسته عمل کوی (۱۰٤) دا هغه خلق دی چه کفر ئے کړے دے په اٰیاتونو دَ رب خپل اوپه پیش کیدلو هغه ته نو برباد دی عملونه دَ دوی نو اوبه نه درؤو دَ دوی دپاره دَقیامت په ورځ هیڅ تول (۱۰۵) دا(چه ذکرشو) سزا دَ دوی ده

[۱۰۱] په دے آیت کښ سبب دَعذاب ذکردے چه هغه دا دے چه دَ ضد اودَ تعصب دَوجے دَ دوی سترګے دَحق دَ دلیلونونه ړندے وے اوغوږونه دَ دوی دَحق دَ اوریدلونه کانړه وو ﴿لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ﴾ ئے ځکه اوفرمائیلوچه په دوی باندے حق خبره اوریدل داسے بوج وو چه دَ هغے دَ پورته کولو طاقت ئے نه لرلو۔

[۱۰۲] دَ دے ځائے نه ترآخرد سورة پورے خاتمه ده۔ پدیکښ زجراوتخویف شدید دے مشرکین بالعباد لره چه په سبب دَ تیرشوے شبهاتودوی دَ اللّٰه تعالیٰ سره شریکان جوړوی هغه عباد فقیران (اصحاب کهف) دی اوپیغمبران(موسیٰ اوخضر علیهما السلام) دی اوبادشاهان دی (لکه ذوالقرنین) دَ(۱۰۲)نه تر(۱۰٦)پورے، اوبشارت دے توحید والوته په (۱۰۷)او (۱۰۸) کښ بیا رد دے په شرك فی العلم باندے (۱۰۹)کښ بیا اختتام دَسورة دے په ذکردَ ارسال الرسول اودَتوحید سره (۱۱۰) کښ هرکله چه شبهات دَمشرکینوتفیصلاً دفع کړے شول چه بندګان اوجنات قدرت اوتصرف دَ الوهیت نه لری نواوس په دے آیتونوکښ تفریع ده په رد دَ شرك فی التصرف اولاًاوبیا رد دَ شرك فی العلم سره۔ اوپه دے (۱۰۲) ایت کښ لفظ دَعبادی صریح دے چه ډیرمشرکانودَ اللّٰه تعالیٰ سره بندګان شریك جوړکړی دی اوپه دے آیت کښ په داسے خلقودَکفر حکم دوه کرته کړے شوے دے۔

[۱۰۳،۱۰٤] پدے آیاتونوکښ ردے دے په هغه خلقوچه اعمال دَشرك اودَبدعاتوکوی اودعویٰ داکوی چه دانیك اعمال دی اوپه هغے کښ ډیرمحنت کوی لیکن دغه اعمال دَ دوی دَ اللّٰه تعالیٰ په نیزبرباد دی نودوی ته تاوان والا وئیلے شوی دی اوپدے آیتونوکښ ټول اهل شرك اوټول مبتدعین داخل دی چه عملونه دَ شرك اودَ بدعت سبب دَثواب اواجرګنړی۔

[۱۰۵] په دے کښ دریم کرت سره حکم دے په کفردَ دغه کسانو، اواشاره ده چه داکفر سبب دَحبط دَعملونودَ دوی دے ﴿فَلَا نُقِيْمُ لَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَزْنًا﴾ په دے کښ دوه توجیه دی اول دا چه دَ دوی به څه

جَهَنَّمُ بِمَا كَفَرُوْا وَاتَّخَذُوْٓا اٰيٰتِيْ وَرُسُلِيْ هُزُوًا ﴿١٠٦﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ كَانَتْ لَهُمْ جَنّٰتُ
الْفِرْدَوْسِ نُزُلًا ﴿١٠٧﴾ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا لَا يَبْغُوْنَ عَنْهَا حِوَلًا ﴿١٠٨﴾ قُلْ لَّوْ كَانَ الْبَحْرُ مِدَادًا لِّكَلِمٰتِ رَبِّيْ لَنَفِدَ
الْبَحْرُ قَبْلَ اَنْ تَنْفَدَ كَلِمٰتُ رَبِّيْ وَلَوْ جِئْنَا بِمِثْلِهٖ مَدَدًا ﴿١٠٩﴾ قُلْ اِنَّمَآ اَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُوْحٰٓى اِلَيَّ اَنَّمَآ
اِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ فَمَنْ كَانَ يَرْجُوْا لِقَآءَ رَبِّهٖ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا وَّلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهٖٓ اَحَدًا ﴿١١٠﴾ ع ١٢

جهنم په وجه دَ دے چه دوی کفر کړے دے اونیسی دوی ایاتونه او رسولان زما ټوقے (١٠٦) یقیناً هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے اوعملونه ئے کړیدی دَ سنت مطابق شته دوی لره جنتونه دَ فردوس میلمستیا تیاره (١٠٧) همیشه به وی دوی په هغے کښے نه به غواړی دوی دَهغے نه بدلی (١٠٨) اُوایه که چرے شی دریابونه سیاهی دپاره دَ لیکلو دَکلمو دَ رب زما نو ضرور ختم به شی دریابونه مخکښے دَ ختمیدلو دَ کلماتو دَ رب زمانه اګر چه راوړو مونږ دَهغے پشان نوره زیاتی سیاهی (١٠٩) اُوایه یقیناً څه بنده یم ستاسو په شان (محتاج یم) او وحی کیدے شی ماته چه یقیناً حقدار دَ بندګئ ستاسو یودے نوځوک چه امید لری دَ پیش کیدلو رب خپل ته نو عمل دے کوی دَ سنت برابر او شریك دِ نه جوړوی په بندګئ دَ رب خپل کښے هیڅا لره (١١٠)

قدراوعزت نه وی اواجروثواب ئے نیشته اوحدیث صحیح کښ دا مضمون ذکرشوے دے چه دَ قیامت په ورځ به غټ سورب سړے راوستلے شی اودَ اللّٰه تعالیٰ په نیزبه دَماشی دَوزرو سره هم برابر نه وی دویم قول دا دے چه دَ دے کافرانوحسنات به نه وزن کیږی دَ دے وجے نه چه حسنات ئے برباد دی اوپه دے کښ اشاره شوه چه دَ بعض کسانودَپاره میزان به نه وی اوبغیردَ وزن دَ اعمالونه جهنم ته به داخلیږی لکه دَ مؤمنانوبعض کسان به بغیردَ حساب نه جنت ته داخلیږی۔

[١٠٦] په دے کښ ئے دوه اسباب دَما قبل دَپاره ذکرکړل اول کفراوشرك دَ دوی او دویم دَ اللّٰه تعالیٰ آیاتونه اودارنګ دَ رسولانوسنت بے فائدے اوعبث ګنړل۔ اوهمیشه دَشرك اودَبدعاتوسبب هم دا دوه دی چه قرآن اوسنت نه استدلال نه کوی۔

[١٠٧،١٠٨] په دے آیتونوکښ بشارت دے ایمان والولره ﴿لَا يَبْغُوْنَ عَنْهَا حِوَلًا﴾ کښ اشاره ده چه په جنت کښ هیڅ تکلیف نیشته اونه پکښ هیڅ کمے شته نودَ دے وجے نه بل ځائے ته تلل نه غواړی اوفردوس اعلیٰ اوافضل جنت دے اوبعض روایاتوکښ دی چه په دیکښ دعوت کوونکی الی الحق وی لکه اصحاب کهف اوموسیٰ وخضراوذوالقرنین دے ټولوپه جدا جدا طریقے سره دعوت کړیدے۔

[١٠٩] پدیکښ رد دے په شرك فی العلم باندے اوجواب دَ شبهے دَ مشرکینودے چه دوی وائی چه دَرسول سره علم دَ تورات اودَانجیل اودَ قرآن وی اوپه هغے کښ علم دَ اللّٰه تعالیٰ دے نومعلومه شوه چه رسول سره کُلی علم دے؟ نوجواب او شوحاصل دَجواب دا دے چه دَاللّٰه تعالیٰ دَعلم هیڅ انتها نیشته اودَ بندګانوعلم منتهی وی ﴿لِكَلِمٰتِ رَبِّيْ﴾ نه مراد جزئیات دَعلم دَاللّٰه تعالیٰ دی اودَهغه تفصیلی صفتونه دَالوهیت اوحکمتونه دَکلام دَ هغه اودَهغے هیڅ حد نیشته۔ اودارنګ په سورة لقمان (٢٧) کښ هم دی۔

[١١٠] په دے آیت کښ اولاً نفی دَ علم غیب ده دَ نبی ﷺ نه چه هغه بشر دے اوبشرپه غیب باندے علم

سُوْرَةُ مَرْيَمَ (١٩) مَكِّيَّةٌ (٣٤) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ٩٨ رُكُوْعَاتُهَا ٦

كٓهٰيٰعٓصٓ ﴿١﴾ ذِكْرُ رَحْمَتِ رَبِّكَ عَبْدَهٗ زَكَرِيَّا ﴿٢﴾ اِذْ نَادٰى رَبَّهٗ نِدَآءً خَفِيًّا ﴿٣﴾ قَالَ رَبِّ اِنِّيْ وَهَنَ

كٓهٰيٰعٓصٓ (١) دایاداشت دَ رحمت دَ رب ستا دے په بنده خپل باندے چه نوم ئے زکریا ؤو (٢) کله چه اواز ئے اوکړو رب خپل ته (په عاجزئ) اواز پټ (٣) اُوئیل اے ربه زما یقیناً کمزوری شویدی

(بقیه تفسیر دَ سورة الکهف) نه لری۔ اواثبات دَ صدق رسول دے اواختتام دے په مسئله دَتوحید اورد دَشرك فی العبادة سره اوداتفریع ده په کل سورة باندے ﴿وَلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهٖٓ اَحَدًا﴾ هرکله چه په شرك کښ مراتب مختلفه وی یعنی شرك دون شرك وکفردون کفرد دے وجے نه دا آیت دَ مفسرینوپه نیزباندے شرك حقیقی اوشرك خفی یعنی ریا اوسمعت ته شامل دے بلکه عدم اخلاص اوطلب دَ اجرت په عبادت باندے هغے ته هم شامل دے، لکه مفسرآلوسی تصریح کړے ده چه څوك ختم دَ قران دَ دنیا دَ مقصد دپاره کوی اواجرت پرے اخلی نو ورکوونکے اواخستونکے دواړه ګنهګار دی او دارنګ ډیروفقهاؤ پدے باندے تصریح کړے ده۔

سورة مریم

اوبل نوم ئے سورة کٓهٰيٰعٓصٓ دے۔

ربط: دَ دے سورة دَ سورة کهف سره دا دے چه سورة کهف کښ جوابونه وؤدَشبهاتودَمشرکانوپه اثبات دَعجز دَصالحینو نوپدے سورة کښ جوابونه دَ شبهاتوباقیودی په اثبات دَ عبدیت دَ صالحینودَ اللّٰه تعالیٰ دَپاره۔

دعویٰ دَ دے سورة: جوابونه دَ شبهاتودی په باره دَ انبیاؤ اوملائکوکښ په اثبات دَ عبدیت دَ هغوی اومأخذ دَ دعوے په (٥٨،٩٣) کښ دے۔ اواثبات دَ توحید دے په پنځوطریقو سره۔ اوله طریقه اثبات دَ عبدیت دَ انبیاؤاودَ ملائکو۔ دویمه طریقه رد دَاقساموډَشرك یعنی شرك فی العبادت اوشرك فی الدعاء اوشرك فی التصرف۔ دریمه طریقه ردپه شفاعت قهریه باندے۔ څلورمه طریقه رد په اتخاذ ولد باندے پنځمه طریقه ذکردَ اسماء حسنیٰ درے په حذف دَ تکرار سره۔

خلاصه دَسورة: په دے سورة کښ درے بابونه دی اول باب تر(٦٣) پورے دے پدیکښ ذکردَعبودیت دَ انبیاء علیهم السلام دے، شپږ انبیاء ئے تفصیلاً ذکرکړیدی زکریاعلیه السلام عیسیٰعلیه السلام اومریم علیها السلام اوابراهیمعلیه السلام اوموسیٰعلیه السلام اواسماعیلعلیه السلام اوادریسعلیه السلام بیا ذکردَ عبودیت دَ انبیاؤ اجمالاً په (٥٨) کښ اوتخویف اخروی روستودَ واقعے دَ عیسیٰعلیه السلام نه دَ (٣٧) نه تر(٤٠) پورے اوپه (٥٩) کښ بیا بشارت اخرویه دَ (٦٠) نه تر (٦٣) پورے۔

تفسیر

[١] دا حروف مقطعات دی اودَ دے په مقصد باندے اللّٰه تعالیٰ بښهٔ پوهیږی اولوئے حکمت په دے کښ

الْعَظْمُ مِنِّي وَاشْتَعَلَ الرَّأْسُ شَيْبًا وَّلَمْ اَكُنْ بِدُعَآئِكَ رَبِّ شَقِيًّا ۞ وَاِنِّي خِفْتُ الْمَوَالِيَ مِنْ وَّرَآءِي وَكَانَتِ امْرَاَتِي عَاقِرًا فَهَبْ لِي مِنْ لَّدُنْكَ وَلِيًّا ۞ يَّرِثُنِي وَيَرِثُ مِنْ اٰلِ يَعْقُوْبَ ۖ وَاجْعَلْهُ رَبِّ

هډوکی زما اوتك سپین دے سرزما دَ بوډا والی په وجه اونه یم څه په وجه دَ دُعا ستانه اے ربه زما محرومه (بدبخته) (٤) او یقیناً څه یریږم دَ تربورانونه روستو زمانه (په دین باندے) او دهٔ ښځه زما شنډه نورا اوبخے مالره دَ خپل طرف نه وارث دَ دین (٥) چه وارث شی دَ دین زما او وارث شی دَ دین دَ اولاد دَ یعقوب(علیه السلام) او ګرځوے دے اے ربه

اثبات دَاعجازدَ قرآن دے او دَ ابن عباس رضی اللّٰه عنهما نه روایت دے چه کاف اشاره دچه اللّٰه تعالیٰ کافی دے اوهاء اشاره ده چه اللّٰه تعالیٰ هادی دے اویا اشاره ده چه ید دَ اللّٰه تعالیٰ غالب دے په ټولواوعین اشاره ده چه اللّٰه تعالیٰ عالم دے په هرڅه اوصاد اشاره ده چه اللّٰه تعالیٰ صادق دے په وعدوخپلو کښ۔

[٢] دا جواب دے دَ شبهے په باره دَ زکریاعلیه السلام کښ۔ شبهه دا ده چه څوئے پیداکیدل دَ زکریاعلیه السلام دلالت کوی دَ هغه په قدرت اوتصرف باندے نومعلومه شوه چه هغه دَ بندګئے حق لری۔ حاصل دَ جواب دا دے چه دے عبد وؤ اودلیلونه دَ عبدیت دَ هغه دا دی چه رحمت دَرب ته محتاج وؤ۔ ندا اودُعائیے کړیده اوهډوکواوسرباندے دَبوډاوالی ښکاره اثروؤ اودَتربورانونه ئیے خوف کوؤوارث ته محتاج ووبیا نخے ته محتاج ووبوډاوالے پرے راغلے وؤمخلوق وؤ ژبه ئیے بنده شویوه نودے اِله نشی کیدے اوپدے ایت کښ اشاره ده چه واقعه دَ زکریاعلیه السلام ذکراونصیحت دے دَپاره دَاثبات دَتوحید اوپه دے کښ تصریح ده دَ هغه په عبدیت باندے اودلته لفظ رحمت کښ اشاره ده استجابت دَ دعاته چه دا د اللّٰه تعالیٰ رحمت دے اللّٰه تعالیٰ مجبورنه دے۔

[٣] په دے ایت کښ عجزاودُعا دَ زکریاعلیه السلام ذکرشویده اودا ایت دلیل دے په دے خبره چه ادب په دُعا کښ پټ وئیل دی لکه په سورهٔ اعراف ایت (٥٥) کښ تیرشوی دی۔

[٤] پدے ایت کښ دلیل دے په دے خبره چه په دُعا کښ توسل کول په ذکر دَخپل عجز او احتیاج دارنګ په نعمتونودَ اللّٰه تعالیٰ سره سنّت دَ انبیاؤ دے ﴿الْعَظْمُ﴾ ئیے ځکه ذکرکړو چه دَ هډوکو په کمزور وکیدلوسره ټول بدن کمزورے شی ﴿وَلَمْ اَكُنْ ۢ بِدُعَآئِكَ رَبِّ شَقِيًّا﴾ مراد ئیے دا دے چه تاځه عادت کړے یم په اجابت باندے ځکه چه ماکله دعاء غوښتے ده نو تاځه نا امیده نه یم واپس کړے او داهم بهتره وسیله ده۔

[٥] پدیکښ هم توسل دے په ذکردَ احتیاج خپل اوپه اوله جمله کښ ذکردَ سبب دے دَپاره دَ طلب دَ څوئي یعنی خپلوان اوتربوران دَ دے قابل نه وؤچه پس دَمرګ دَ دهٔ نه دین سنبال کړی نوځکه ولد پکاردے ﴿وَكَانَتِ امْرَاَتِي عَاقِرًا﴾ پدیکښ اشاره ده چه اسباب ظاهردَ ولد نیشته او من لدنك هم پدے باندے دلالت کوی چه ظاهری سبب نیشته۔

رَضِيًّا ۝٧ يٰزَكَرِيَّآ اِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلٰمِ ِۨاسۡمُهٗ يَحۡيٰى ۙ لَمۡ نَجۡعَلۡ لَّهٗ مِنۡ قَبۡلُ سَمِيًّا ۝٨ قَالَ رَبِّ اَنّٰى يَكُوۡنُ لِىۡ
غُلٰمٌ وَّكَانَتِ امۡرَاَتِىۡ عَاقِرًا وَّقَدۡ بَلَغۡتُ مِنَ الۡكِبَرِ عِتِيًّا ۝٩ قَالَ كَذٰلِكَ ۚ قَالَ رَبُّكَ هُوَ عَلَىَّ هَيِّنٌ وَّقَدۡ
خَلَقۡتُكَ مِنۡ قَبۡلُ وَلَمۡ تَكُ شَيۡـًٔا ۝١٠ قَالَ رَبِّ اجۡعَلۡ لِّىۡۤ اٰيَةً ؕ قَالَ اٰيَتُكَ اَلَّا تُكَلِّمَ النَّاسَ ثَلٰثَ لَيَالٍ
سَوِيًّا ۝١١ فَخَرَجَ عَلٰى قَوۡمِهٖ مِنَ الۡمِحۡرَابِ فَاَوۡحٰۤى اِلَيۡهِمۡ اَنۡ سَبِّحُوۡا بُكۡرَةً وَّعَشِيًّا ۝١٢ يٰيَحۡيٰى خُذِ الۡكِتٰبَ بِقُوَّةٍ ؕ

غوره شوے (٦) اے زکریا یقیناً مونږ زیرے درکؤو تاته په هلك سره چه نوم د هغه یحیٰ دے نه دے کړ ځولے مونږ دۀ لره د دے نه مخکښے همنامے (٧) دۀ اُوئیل اے ربه په څه طریقه سره به زما هلك وی او ده بنځه زما شنډه شوے او یقیناً رسیدلے یم څه د بوډا والی نه اخری حدته (٨) اُوئیل دغه شان به ئے وئیلی دی ستارب چه داکار په ما باندے اسان دے او یقیناً ما پیدا کړے وے ته پخوا اونه وے ته هیڅ څیز (٩) اُوئیل ده اے ربه زما او کړ څوه مالره نخه اُوئیل نخه ستا دا ده چه خبرے به نه شے کولے خلقو سره درے شپے او حال داچه روغ به ئے (١٠) پس را اُوتلو(بنکاره شو) قوم ته د عبادت خانے نه نو په اشاره سره ئے اُوئیل دوی ته چه تسبیح وائے صبائی بیګائی (١١) (اُوئیل مونږ) اے یحیٰ اونیسه کتاب په کلکه سره

[٦] دلته مراد د میراث نه وراثت د دین دے او ال یعقوب کښ هم دے ته اشاره ده چه دا دین میراث دے د ټولو انبیاؤ د بنی اسرائیلو او مراد د میراث نه میراث مالی نه دے ځکه چه انبیاء علیهم السلام نه مال میراث کښ نه پاتے کیږی بلکه د هغوی نه علم د دین پاتے کیږی لکه چه په حدیث صحیح کښ دی ﴿رَضِيًّا﴾ غوره کړے شوے د دین دپاره۔

[٧] یعنی دُعاء د زکریاعلیه السلام قبوله شوه او په بشارت کښ درے امور ذکر دی اول بشارت د ولد، دویم تسمیه د اللّٰه تعالیٰ د طرف نه په یحیٰ سره او دریم په دے قول کښ چه ﴿لَمۡ نَجۡعَلۡ لَّهٗ مِنۡ قَبۡلُ سَمِيًّا﴾ د دے دوه معنے دی اوله معنیٰ دا ده چه نوم د یحیٰ د دۀ نه مخکښ د بل چانه وو اودویمه معنیٰ دا ده چه د اللّٰه تعالیٰ د طرف نه داسے نوم بل چاله نه وؤ کیښودلے شوے۔

[٨] پدیکښ مقصد د زکریاعلیه السلام انکار کول نه دی بلکه طلب کول دی د طریقے د ولادت لکه چه تیر شویدی په تفسیر د سورة ال عمران کښ پدے سورة کښ پوره تفصیل مقصد دے د دے وجے نه اول مانع د ولادت ئے ذکر کړو چه شنډوالے د بنځے دے اوپه سورة ال عمران کښ برعکس ذکر کړے دے یعنی اول ئے د خپل ځان ذکر کړے دے۔

[٩] ﴿كَذٰلِكَ﴾ کښ اشاره ده چه ته اوستا بی بی په حالت د بوډاوالی کښ به یئ لیکن اللّٰه تعالیٰ به اولاد درنه پیدا کړی ﴿وَقَدۡ خَلَقۡتُكَ﴾ پدیکښ اشاره ده چه پیدا کول د یحیٰ قیاس دے په پیدا کولود زکریاعلیه السلام روستو د نیشتوالی نه ﴿شَيۡـًٔا﴾ یعنی داسے څیز چه یادشی په خاص نوم سره۔

[١٠] پدیکښ طلب کول د زکریاعلیه السلام دی خاص نبیے لره دپاره د ولادت د اولاد اودا د دے دپاره چه د ولادت نه مخکښ شکر ډیراداکړی ﴿اَلَّا تُكَلِّمَ النَّاسَ﴾ په دے کښ دوه توجیه دی اول داچه ستا ژبه به بنده شی نو په اشاره به خبرے کوے دویم داچه ته به منع کړے شے د خبرونه او داهم روژه ده په دین د هغوی کښ که د شپے وی یا د ورځے۔ په سورة ال عمران (٤١) کښ ایام لفظ ذکر وؤ اشاره وه چه شپه او ورځ

وَاٰتَيۡنٰهُ الۡحُكۡمَ صَبِيًّا ﴿١٢﴾ وَّحَنَانًا مِّنۡ لَّدُنَّا وَزَكٰوةً ؕ وَكَانَ تَقِيًّا ﴿١٣﴾ وَّبَرًّا بِوَالِدَيۡهِ وَلَمۡ يَكُنۡ جَبَّارًا
عَصِيًّا ﴿١٤﴾ وَسَلٰمٌ عَلَيۡهِ يَوۡمَ وُلِدَ وَيَوۡمَ يَمُوۡتُ وَيَوۡمَ يُبۡعَثُ حَيًّا ﴿١٥﴾ وَاذۡكُرۡ فِى الۡكِتٰبِ مَرۡيَمَ ۘ اِذِ انۡتَبَذَتۡ
مِنۡ اَهۡلِهَا مَكَانًا شَرۡقِيًّا ﴿١٦﴾ فَاتَّخَذَتۡ مِنۡ دُوۡنِهِمۡ حِجَابًا ۖ فَاَرۡسَلۡنَاۤ اِلَيۡهَا رُوۡحَنَا فَتَمَثَّلَ لَهَا بَشَرًا

وقف لازم

او ورکړے وه مونږ دهٔ ته پوهه دَ دین په ورکوالی کښے (۱۲) او ترس کول (په خلقو باندے) زمونږ دَ طرف نه اوپاکوالے او دے ژوند تقویٰ دار (۱۳) او احسان کوونکے دَ مور اوپلار سره او دے نه ژوند زیاتے کوونکے (په خلقو) اونافرمان (دَ اللّٰه تعالیٰ) (۱٤) او سلامتیا ده دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه په دهٔ باندے په کومه ورځ چه پیدا شو او کومه ورځ چه مړکیږی او کومه ورځ چه دوباره به ژوندے کیږی (۱۵) او بیان کړه (دَنصیحت په طور) په کتاب دَ اللّٰه تعالیٰ کښ واقعه دَ مریم کله چه په ډه شوه دَ کورنیٔ خپلے نه یو مکان دَنمرخاته طرف ته (۱٦) نو جوړه ئے کړه دَ دوی نه دَ بچ کیدلو د پاره پرده نو اولیږلو مونږ هغے ته روح دَ خپل طرف نه (جبرئیل) جوړئے کړو هغے ته شکل دَ بنده

دواړه دی او سورة مریم مخکښ نازل شویدے دَ سورة ال عمران نه نو دلته ئے اول وخت ذکرکړو چه شپه ده ځکه شپه په ورځ باندے مخکښ ده او دَ ورځے اشاره بنکاره کیږی او دَ شپے نه بنکاری دَ دے وجے ئے هلته دَ ورځو سره الّا رمزاً ذکرکړے دے۔

[۱۱] مراد دا دے چه زکریاعليه السلام دَکلام کولونه ژبه بنده کړه نوبیا دعوت دَ دین ئے په اشارو سره کولو ﴿الۡمِحۡرَابِ﴾ مراد دَ دے نه هغه اوچت مکان دے چه مختص وؤ په امام پورے په دین دَ بنی اسرائیلو کښ اودیته محراب ځکه وائی چه په دیکښ محاربه کیږی دَشیطان اودَ شهواتوسره۔ دا محراب زمونږدَ زمانے مرادنه دے ﴿بُكۡرَةً وَّعَشِيًّا﴾ کښ هر وخت مراد دے لیکن دا دوه وختونه ډیر افضل دی دَ دے وجے نه تخصیص ئے اوکړو۔

[۱۲] په کلام کښ حذف دے دَپاره دَ اختصار یعنی یحییٰعليه السلام پیدا شواولوئے شونودا خطاب ورته اوشو ﴿الۡكِتٰبَ﴾ نه مراد تورات دے او مراد دَ دے دا دے چه کوشش اوکړه دَ تورات په رسولوکښ۔ اوبیا دَیحییٰعليه السلام لس صفات ذکر کړیشوی دی۔ اولنے دا ووچه ﴿وَاٰتَيۡنٰهُ الۡحُكۡمَ صَبِيًّا﴾ الحکم نه مراد دَ دین پوهه ده اودَ ابن عباسرضي الله عنه نه روایت دے چاچه قرآن اولوستو مخکښ دَبلوغ نه نوهغه پدے صفت کښ داخل شواویو روایت کښ راغلی دی چه یحییٰعليه السلام ته یوځلے هلکانو اُوئیل رائځه چه لوبے کوؤ نو هغه جواب ورکړوچه مونږ دَ لوبودَپاره نه یوپیداکړے شوی۔

[۱۳،۱٤،۱۵] په دے ایتونوکښ باقی نهه صفات ذکرکړیشویدی ﴿وَسَلٰمٌ عَلَيۡهِ﴾ مراد دَ سلام نه سلام دے دَ اللّٰه تعالیٰ اوسلامتیا ورکول دی او دَ دے دریوحالاتوذکر ئے ځکه اوکړو چه انسان په دے دریوحالاتوکښ ډیرضعیف اومحتاج وی اللّٰه تعالیٰ ته او داصفتونه ټول دلالت کوی په عبدیت دَ یحییٰعليه السلام باندے۔

[۱٦] دا واقعه دَ مریم اودَ عیسیٰ علیهما السلام ده دَپاره دَجواب دَ شبهے دَ مشرکینواونصاریٰ! شبه دا ده چه دَ مریم او دَ عیسیٰ علیهم السلام نه ډیره عجیبه او نا اشنا امور بنکاره شویدی معلومیږی چه دوی

سَوِيًّا ﴿١٧﴾ قَالَتْ اِنِّيْٓ اَعُوْذُ بِالرَّحْمٰنِ مِنْكَ اِنْ كُنْتَ تَقِيًّا ﴿١٨﴾ قَالَ اِنَّمَآ اَنَا رَسُوْلُ رَبِّكِ ۖ لِاَهَبَ لَكِ غُلٰمًا
زَكِيًّا ﴿١٩﴾ قَالَتْ اَنّٰى يَكُوْنُ لِيْ غُلٰمٌ وَّلَمْ يَمْسَسْنِيْ بَشَرٌ وَّلَمْ اَكُ بَغِيًّا ﴿٢٠﴾ قَالَ كَذٰلِكِ ۚ قَالَ رَبُّكِ هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٌ ۚ ع

برابر (۱۷) هغے اُوئیل یقیناً څه پناهی غواړم په رحمان سره ستانه که ته ئے تقویٰ دار (نو په ډه شه)
(۱۸) اُوئیل هغه یقیناً څه رالیږلے شوے یم ستا دَ رب دَطرف نه(هغه وائی) چه او بخم تاته څوے پاك
(۱۹) هغے اوئیل څنګه به وی څما دپاره څوئے او لاس نه دی لګولی څما سره هیڅ بنده او نه یم څه
بدکاره (۲۰) اُوئیل هغه دغسے ئے (لکه چه دے اُوئیل) وئیلی دی ستا رب داکار په ما باندے اسان دے

متصرف اوحاجت روا دی۔ حاصل دَ جواب دا دے چه مریم کښ عجزاوعبدیت وؤ پناهی په رحمان سره طلب کوی، جبرائیل نه پیژنی، مخاض پرے راغلے دے، تمنا دَموت ئے کړیده، نذر ئے دَ رحمان دَپاره کړیدے دا ټول دلیلونه دی دَعجز دَهغے اوعیسیٰ علیہ السلام وئیلی دی اِنی عبدالله اونبی یم مبارك یم، اوپه عباداتوسره ماموریم اوسلامتیاکښ الله تعالیٰ ته محتاج یم اووئیلی دی﴿وَاِنَّ اللّٰهَ رَبِّيْ وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْهُ﴾ دا ټول دلیلونه دی دَعبدیت اودَعجز دَعیسیٰ علیہ السلام نوهغوی متصرف اوحاجت روانشی کیدے ﴿وَاذْكُرْ﴾ نه مراد بیان دَ واقعے دَ مریم علیها السلام دے دَپاره دَتذکیردَ توحید۔ اوانتباذ مکان شرقی ته دَپاره دَ عبادت کولووؤ۔ اودَ مکان شرقی تخصیص دَ وجے دَ افضلیت نه نه وؤ دا اتفاقی وو لیکن نصاریٰ په بدعت کښ اخته شول او دا مکان شرقی ئے چه مولد دَعیسیٰ علیہ السلام دے دَ دے نه ئے قبله جوړه کړه۔

[۱۷] زنانه باندے حجاب فرض دے دَ دے دَ وجے هغے حجاب ځان ته جوړ کړو﴿رُوْحَنَا﴾ دَ دے نه مراد جبرائیل علیہ السلام دے ﴿فَتَمَثَّلَ﴾ دلیل دے چه ملائکو ته الله تعالیٰ دا قوت ورکړے دے چه دَ انسان په شکل سره متشکل کیږی اوجبرائیل دَ بشرپه شکل کښ ځکه راغلوچه بغیردَتمثیل نه دَانسان په نظرکښ راتللے نشی دلته چه چادَ روح نه مراد روح دَ عیسیٰ علیہ السلام اخستے او هغه دَ بشرپه شکل پیداکیدل ئے مرادکړیدی نودا قول صحیح نه دے ابن کثیرهغے ته غریب اومنکراواسرائیلی روایت وئیلے دے۔

[۱۸] معلومه شوه چه مریم په غیب نه پوهیدله نوجبرائیل ئے اونه پیژندلو۔ اودارنګ په تعوذکښ الله تعالیٰ ته محتاج ده ﴿اِنْ كُنْتَ تَقِيًّا﴾ دَ دے جزاء حذف ده معنیٰ دا ده که ته دَ الله تعالیٰ نه یریږے نوځمانه په ډه شه یا تقیا په معنیٰ دَ عقلمند دے ﴿بِالرَّحْمٰنِ﴾ رحمٰن، صفت دَ دوی په نیز مشهور وؤ۔

[۱۹] لفظ دَ رسول دلیل دے چه ﴿لِاَهَبَ﴾ کلام دَ الله تعالیٰ دے ځکه چه رسول کلام دَ مرسل ذکرکوی دَ دے وجے نه چه هبه کوونکے دَ اولاد الله تعالیٰ دے، جبرائیل نه دے او پدیکښ ﴿لِيَهَبَ﴾ قراءة هم ثابت دے۔

[۲۰] دا قول دَ دے په طوردَ تعجب سره دے اووجه دَ تعجب روستوذکرکړیده یا طلب دَکیفیت دے اودا تعجب په اعتباردَ عادت سره دے۔

وَلِنَجۡعَلَهٗۤ اٰيَةً لِّلنَّاسِ وَرَحۡمَةً مِّنَّا ۚ وَكَانَ اَمۡرًا مَّقۡضِيًّا ﴿٢١﴾ فَحَمَلَتۡهُ فَانۡتَبَذَتۡ بِهٖ مَكَانًا قَصِيًّا ﴿٢٢﴾
فَاَجَآءَهَا الۡمَخَاضُ اِلٰى جِذۡعِ النَّخۡلَةِ ۚ قَالَتۡ يٰلَيۡتَنِىۡ مِتُّ قَبۡلَ هٰذَا وَكُنۡتُ نَسۡيًا مَّنۡسِيًّا ﴿٢٣﴾ فَنَادٰٮهَا مِنۡ
تَحۡتِهَاۤ اَلَّا تَحۡزَنِىۡ قَدۡ جَعَلَ رَبُّكِ تَحۡتَكِ سَرِيًّا ﴿٢٤﴾ وَهُزِّىۡۤ اِلَيۡكِ بِجِذۡعِ النَّخۡلَةِ تُسٰقِطۡ عَلَيۡكِ رُطَبًا
جَنِيًّا ﴿٢٥﴾ فَكُلِىۡ وَاشۡرَبِىۡ وَقَرِّىۡ عَيۡنًا ۚ فَاِمَّا تَرَيِنَّ مِنَ الۡبَشَرِ اَحَدًا ۙ فَقُوۡلِىۡۤ اِنِّىۡ نَذَرۡتُ لِلرَّحۡمٰنِ صَوۡمًا فَلَنۡ

او پیدا کړو دے هلك لره نښه دَ قدرت دپاره دَخلقو او رحمت زمونږ دَ طرف نه او دے دا کار فیصله کړے شوے (۲۱) پس په خپله کښے واخست دا بچے پس په ډه شوه په سبب دَ دغه حمل داسے ځائے ته چه لرے وو دَ خلقونه (۲۲) نو مجبوره کړه هغے لره درد دَ پیدائش نو(تکیه ئے اوکړه) تنے دَکجورے ته اُوئیل دے هائے ارمان دے مړه وے ځه وړاندے دَ دے نه او وے ځه هیره تیره (۲۳) نو اواز ورکړو دے ته (هغه رسول) دَ کوز ځائے نه چه مه خفه کیږه یقیناً پیدا کړے ده ستا رب کوز ځائے کښ ستانه روانه چینه (۲٤) او خوَزوه ځان ته تنه دَ کجورے راغورځوی به په تاباندے کجورے تازه انړوله شوے (۲۵) پس خوره اوڅکه اویخے لره سترګے پس که اولیدلو تا دَ بندګانونه څوك نو اُوایه چه ما منخته کړے ده دَ رحمان د پاره روژه (چپ والے)

[۲۱] ﴿كَذٰلِكِ﴾ کښ اشاره ده څنګه چه اوس ئے په داسے حال کښے به ستانه ولادت کیږی یعنی بغیر دَ دے نه چه تاته څوك نزدے شی ﴿وَلِنَجۡعَلَهٗۤ﴾ دَ دے نه مخکښ نَخلُقُهُ لفظ مقدردے ﴿رَحۡمَةً﴾ مراد دَ دینه نبوت والادَپاره دَبیان دَتوحید دے ﴿وَكَانَ اَمۡرًا مَّقۡضِيًّا﴾ کلام دَ جبرائیل دے مریم ته په اخبار دَ الله تعالیٰ دے نبی ﷺ ته۔

[۲۲] ﴿فَحَمَلَتۡهُ﴾ نفخ دَ روح جبرائیل علیه السلام اوکړو لکه سورة انبیاء (۹۱) اوسورة تحریم (۱۲) کښ ذکرشوی دی اوبیا پدے وجه چه قوم به مالره ملامتیا راکوی لرے ځائے ته لاړه۔

[۲۳] دا دلیل دے چه په نفخ پسے زرحمل سکاره شواوپه حمل پسے سمدستی ولادت شویدے اوبل قول دا دے چه حمل نهه میاشتے په کیدهه باندے ووپښان دَعام عادت دَ زنانو ﴿جِذۡعِ النَّخۡلَةِ﴾ اودا په بیت اللحم مقام کښ ده دَبیت المقدس نه اته میله لرے اودامشهورقول دے ﴿يٰلَيۡتَنِىۡ مِتُّ قَبۡلَ هٰذَا﴾ شبه دا ده چه تمنادَموت منع ده نومریم علیها السلام ولے داتمنّا کړیده؟ اول جواب دا دے چه دا اویریده چه ځماپه دیندارئے باندے طعن لرِی اودا فتنه ده اودَ خوف دَ دینی فتنے په وجه تمنّا دَ موت جائزده۔ دویم جواب دا دے چه دااویریده چه ځماپه وجے سره به قوم په بهتان اوپه ګناه کښ اخته شی نوپدے لحاظ سره تمنادَموت جائزده۔

[۲٤] ﴿فَنَادٰٮهَا﴾ فاعل جبرائیل علیه السلام دے چه دَ مریم علیها السلام نه سکته بل مکان ته منتقل شوے وؤ اودویم قول دا دے چه عیسیٰ علیه السلام پیدا شونوهغه دا آوازمورته ورکړو اول قول غوره دے اودا آوازاودَ دے نه مخکښ مخاطبه دَ جبرائیل علیه السلام دَ مریم علیها السلام سره داکرامات دَمریم علیهاالسلام دی خودَ هغے په اختیارکښ نه وو ﴿سَرِيًّا﴾ په معنیٰ دَ نهرد اوبودے یعنی روانے اوبه روستوو اشربی پدے دلیل دے یا مراد دَ دینه سردار دے یعنی عیسیٰ علیه السلام اول قول غوره دے۔

[۲۵] دا هم کرامات دَمریم علیها السلام دی چه دَ اوچے تنے دَکجورے نه تازه میوے راپریوځی۔ اوهزّی

أُكَلِّمَ الْيَوْمَ إِنْسِيًّا ﴿٢٦﴾ فَأَتَتْ بِهِ قَوْمَهَا تَحْمِلُهُ ۖ قَالُوا يَا مَرْيَمُ لَقَدْ جِئْتِ شَيْئًا فَرِيًّا ﴿٢٧﴾ يَا أُخْتَ هَارُونَ مَا كَانَ
أَبُوكِ امْرَأَ سَوْءٍ وَمَا كَانَتْ أُمُّكِ بَغِيًّا ﴿٢٨﴾ فَأَشَارَتْ إِلَيْهِ ۖ قَالُوا كَيْفَ نُكَلِّمُ مَنْ كَانَ فِي الْمَهْدِ صَبِيًّا ﴿٢٩﴾
قَالَ إِنِّي عَبْدُ اللَّهِ ۖ آتَانِيَ الْكِتَابَ وَجَعَلَنِي نَبِيًّا ﴿٣٠﴾ وَجَعَلَنِي مُبَارَكًا أَيْنَ مَا كُنْتُ ۖ وَأَوْصَانِي بِالصَّلَاةِ

نو خبرے نه کؤوم تن دَ هیځ انسان سره (٢٦) نو راوړو هغے بچے قوم خپل ته په غیږ کښے را اوچت کړے ؤو دوی اُوئیل اے مریم یقیناً راتلل ډاوکړل(او ډکړلو) په کارډیر نا اشنا سره (٢٧) اے خور دَ هارون نه ؤو ستا پلار سړے ناکاره او نه وه ستا مور بدکاره (٢٨) نو هغے اشاره اوکړه بچی طرف ته نو دوی اُوئیل څنګه خبرے اوکړو مونږ هغه چاسره چه دے په غیږ کښے وړوکے بچے (٢٩) اُوئیل بچی یقیناً ځه دَ اللّٰه تعالیٰ بنده یم راکوی به ماته کتاب اوجوړوی ما پیغمبر (٣٠) او جوړوی به ما فائده مند هرځائے چه یم ځه اوحکم به کوی ماته دَمانځه

کښ اشاره ده چه دَ رزق دپاره ضرورځه حرکت اوکسب پکار دے او ورکوی ئے اللّٰه تعالیٰ اوعمربن میمون نه نقل دی چه تازه کجورے دَ زنانه دَپاره په وخت دَپیدائش دَ بچی کښ ډیربهترځیزدے۔

[٢٦] اشاره ده چه دَ نفاس په حال کښ رطب او اوبه استعمالول مفید دی دَ زنانودَپاره۔ اودَ قوم دَطعن نه دَبچ کیدلودَپاره ورته طریقه اوخودله ﴿فَقُولِيٓ﴾ نه مراد په اشاره سره وئیل دی ﴿صَوْمًا﴾ نه مراد صمت (چپوالے) دے اوصمت په شریعت دَ هغوی کښ عبادت ؤو دَ دے وجے نه په نذر سره لازمیږی او زمونږ مِلّت کښ په روژه کښ دَکلام قبیح ترك لازم دے اوپه دے ایت کښ دلیل دے چه نذر په اللّٰه تعالیٰ پورے خاص دے او دا دَ صالحینو عمل دے۔

[٢٧] هرکله چه دَ دے تسلّی اوشوه نوعیسیٰ علیه السلام ئے په غیږ کښ رااوچت کړواوقوم ته راغله نوهغوی پرے اول انکار اوکړو۔

[٢٨] پدیکښ په هغے باندے دَ طعن کولو تاکید ئے اوکړوچه تاپه دے عمل صرف ځان نه بلکه موراوپلار هم اوشرمول ﴿يَا أُخْتَ هَارُونَ﴾ دَ حدیث دَ مسلم نه په روایت دَ مغیرة بن شعبة رضی الله عنه سره معلومیږی چه دا هارون په دغه زمانه کښ یونیك سړے وؤنودوی دَمریم تشبیه په صلاحیت کښ دَهغه سره ورکړه اوبل قول دا دے چه مریم علیهاالسلام دَ هارون علیه السلام په اولاد کښ وه اودَاخ اواخت اطلاق په نسل باندے هم کیږی اوځوك چه داسے وائي چه مریم دَهارون علیه السلام خوروه نوپه هغے باندے ابن کثیرسخت رد کړے دے۔

[٢٩] معلومه شوه چه مریم علیهاالسلام نذرکړے وونوخبرے نه کولے اوپه اشاره سره ئے هغوی پوهه کړل ﴿كَانَ﴾ په معنیٰ دَیکون سره دے یا صرف دَ وجود اودَ حدوث دَپاره دے۔

[٣٠] دوی اګرچه عیسیٰ علیه السلام سره خبرے نه کولے لیکن اللّٰه تعالیٰ هغه لره ګویاکړواوخپل لس حالات ئے ذکرکړی دی چه هغه پول دَ هغه په عجزاوپه عبدیت باندے دلالت کوی اوپدے پولوصفتونوکښ رد دے په یهودیانواونصارا دواړو باندے چه چا دَ هغه په باره کښ تفریط کړے دے اوچا افراط کړے دے اوفعل ماضی صیغے په معنیٰ دَمستقبل سره دی لیکن ماضی ئے دَتیقن دپاره ذکرکړے ده۔

وَالزَّكٰوةِ مَا دُمْتُ حَيًّا ﴿٣١﴾ وَّبَرًّا بِوَالِدَتِيْ وَلَمْ يَجْعَلْنِيْ جَبَّارًا شَقِيًّا ﴿٣٢﴾ وَالسَّلٰمُ عَلَيَّ يَوْمَ وُلِدْتُّ وَيَوْمَ
اَمُوْتُ وَيَوْمَ اُبْعَثُ حَيًّا ﴿٣٣﴾ ذٰلِكَ عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ ۚ قَوْلَ الْحَقِّ الَّذِيْ فِيْهِ يَمْتَرُوْنَ ﴿٣٤﴾ مَا كَانَ لِلّٰهِ اَنْ يَّتَّخِذَ
مِنْ وَّلَدٍ ۙ سُبْحٰنَهٗ ۭ اِذَا قَضٰٓى اَمْرًا فَاِنَّمَا يَقُوْلُ لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ ﴿٣٥﴾ وَاِنَّ اللّٰهَ رَبِّيْ وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْهُ ۭ هٰذَا
صِرَاطٌ مُّسْتَقِيْمٌ ﴿٣٦﴾ فَاخْتَلَفَ الْاَحْزَابُ مِنْۢ بَيْنِهِمْ ۚ فَوَيْلٌ لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ مَّشْهَدِ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ﴿٣٧﴾ اَسْمِعْ

او دَ زکوٰة تر څوپورے چه یم ځه ژوندے(۳۱) اونیکی کڅونکے دَ مور سره اونه دے ګرځولے مالره زیاتے کڅونکے په خلقو او بدبخت (۳۲) او سلامتیا ده دَ طرف دَ اللّٰه تعالیٰ نه په ما باندے په هغه ورځ چه پیدا کړے شوم او په هغه ورځ چه مړ کیږم او په هغه ورځ چه دوباره به ژوندے کیږم(۳۳) دغه شان والا عیسیٰ بن مریم دے (وایم) وینا حقه هغه چه دوی پکښے شك کوی (۳٤) نه ده مناسب اللّٰه تعالیٰ لره چه اونیسی هیڅ بچے پاك دے اللّٰه تعالیٰ دَ دے نه هر کله چه اوغواړی څه کار پس یقیناً اُوائی هغے ته اوشه نو هغه اوشی (۳۵) (او اُوئیل عیسیٰ علیه السلام) یقیناً اللّٰه تعالیٰ رب زما او رب ستاسو دے پس بندګی کوئ خاص هغه لره دا لاره ده نیغه (۳٦) بیا اختلاف اوکړو ډلو (ضدیانو) په کورنئ کښے (په باره دَ عیسیٰ علیه السلام کښے) نو تباهی ده کافرانو لره دَ حاضرئ دَ ورځے لوئے نه (۳۷) ښه اوری

[۳۱] پدیکښ دَ هغه نورحالات دَ عبدیت ذکر کړے شویدی ﴿مُبٰرَكًا﴾ برکت په انسان کښ دا دے چه دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه خیرته دعوت ورکوی نومراد دے نه معلم دَ خیردے ﴿مَادُمْتُ حَيًّا﴾ دا دلیل دے چه په موت سره تکالیف دَعباداتو قطع شی اومرده عبادات نشی کولے ﴿الزَّكٰوةِ﴾ نه مراد زکوٰة دَ عقیدے اودَاعمالواو اخلاقو دے چه هغے ته تزکیه دَ نفس وئیلے شی یا زکوٰة مالی مراد دے په شرط دَمال سره ضرورةً۔

[۳۲] پدے ایت دَ هغه نوردوه صفات دَ عبدیت ذکر کړیدی ﴿جَبَّارًا﴾ هغه څوك دے چه دَ تکبرڈ وجے په ځان باندے دَبل چا حق نه منی او ﴿شَقِيًّا﴾ هغه دے چه دَ خباثت دَ نفس دَ وجے نه دَ اللّٰه تعالیٰ حکم پریږدی دَ یحییٰ علیه السلام په باره کښ عصیًا ذکرشوے وؤ ځکه چه دَ هغه باره کښ بدنامی نه وه نو صرف عصمت دَ هغه ذکرشواودَ عیسیٰ علیه السلام په باره کښ شَقِيًّا ذکر کړو پدے کښ رد دے په هغه طعنونو چه یهودیانوپه هغه باندے کول۔

[۳۳] دا سلام اګرچه دَ دهٔ په خلے سره وئیلے شویدے لیکن دَ اللّٰه تعالیٰ دَطرف نه دے په حقیقت کښ اوپه دے کښ دَ عیسیٰ علیه السلام درے حالات دَعجزذکرشول چه اللّٰه تعالیٰ ته محتاج دے په سلامتیا کښ۔ او والسلام کښ الف لام ئے عهدی دَ دے وجے نه راوړوچه معلوم شی پدے سره سلام دَیحییٰ علیه السلام یعنی هغه سلام په ماباندے هم دے یا دا دلیل دے په فضیلت دَ عیسیٰ علیه السلام په یحییٰ علیه السلام باندے ځکه چه معرفه افضل ده دَ نکرے نه۔

[۳۵،۳٤] دا آیتونه په طریقه دَجملے معترضے سره دی۔ تفریع اونتیجه ده دَکلام دَعیسیٰ علیه السلام او رد دے په نصاریٰ مشرکانوباندے اوپه یهودیانوباندے او ﴿قَوْلَ الْحَقِّ﴾ نه مخکښ اقوال لفظ محذوف دے او په (۳۵)کښ صریح رد دے په نصاریٰ باندے چه عقیده دَ اتخاذ ولد لری۔ رد په دوه طریقوسره دے یو ﴿سُبْحَانَهٗ﴾ اودویم ﴿اِذَاقَضٰى اَمْرًا﴾ په اول کښ تنزیه ذاتی ده اوپه دویم کښ عدم احتیاج دَ هغه دے۔

[۳٦] داهم قول دَ عیسیٰ علیه السلام دے۔ اوقال په دے کښ مقدردے لیکن دائے دَ مخکنواقوالونه جدا

بِهِمْ وَاَبْصِرْ ۙ يَوْمَ يَاْتُوْنَنَا لٰكِنِ الظّٰلِمُوْنَ الْيَوْمَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿٣٨﴾ وَاَنْذِرْهُمْ يَوْمَ الْحَسْرَةِ اِذْ قُضِيَ
الْاَمْرُ ۘ وَهُمْ فِيْ غَفْلَةٍ وَّهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿٣٩﴾ اِنَّا نَحْنُ نَرِثُ الْاَرْضَ وَمَنْ عَلَيْهَا وَاِلَيْنَا يُرْجَعُوْنَ ﴿٤٠﴾ وَاذْكُرْ
فِي الْكِتٰبِ اِبْرٰهِيْمَ ۘ اِنَّهٗ كَانَ صِدِّيْقًا نَّبِيًّا ﴿٤١﴾ اِذْ قَالَ لِاَبِيْهِ يٰٓاَبَتِ لِمَ تَعْبُدُ مَا لَا يَسْمَعُ وَلَا يُبْصِرُ

به دوی اوښه به وینی په هغه ورځ چه پیش به شی مونږ ته لیکن ظالمان نن په ګمراهئ بنکاره کښے دی (۳۸) او یره ورکړه دوی لره دَ ورځ دَ افسوس نه کله چه فیصله به اوشی دَ کارونو او دوی (اوس) په غفلت کښے دی او دوی ایمان نه لری (۳۹) یقیناً مونږ اخری مالکان یو دَ دے زمکے او دَهغه چاچه په دی باندے دے اوخاص مونږ ته به دوی را اوګرځولے شی (٤٠) اوبیان کړه دَ نصیحت په طور په کتاب دَ اللّٰه تعالیٰ کښے حال دَ ابراهیم(علیه السلام) یقیناً د ے ډیر رشتینے ؤو پیغمبر ؤو (٤١) کله چه اُوئیل دهٗ لار خپل ته اے پلاره زما په څه دلیل بندګی کوے ته دَهغه چاچه نه اوری اونه وینی څه څیز

ذکرکړو اشاره ده چه دا قول دَ هغه په حال دَ وړوکوالی کښ نه وؤ اودا سے په سورة العمران:(٥١) اوسورة زخرف (٦٤) کښ هم دی۔

[۳۷] مختلف اقوال په باره دَ عیسیٰ(علیه السلام) کښ دا وو چه یهودیانواوئیل چه دا ولد الزنا دے اودَ نصاریٰ نه یعقوبیواوئیل چه دا اللّٰه دے اوپه صورت دَ عیسیٰ(علیه السلام) کښ دے اونسطوریه اُوئیل چه دے ابن اللّٰه دے اوملکانیه اُوئیل چه دے ثالث ثلثه دیے او مسلمانانو اُوئیل چه دے عبداللّٰه ورسوله دے۔ اوپه دے ایت کښ تخویف اخروی دے دَمنکرینوڅلوته ﴿مِنْ مَّشْهَدِ﴾ اشاره ده چه دَ دوی هلاکت به په هغه ورځ یقینی وی چه ورځ دَ قیامت حاضره شی۔

[۳۸] په دے ایت کښ اول تخویف دے اوبیا زجردے اومراد دَ آیت دا دے چه په ورځ دَ قیامت به دوی ښهٗ اوری اوښهٗ به وینی هغه څه چه دوی ترینه نن انکارکوی نودَ قیامت په ورځ اوریدل اولیدل څه فائده نه ورکوی لکه سورة سجده (۱۲) کښ چه ذکر راځی ﴿فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ﴾ یعنی په دنیاکښ نه اوری اونه وینی حق لره اودا سبب دَګمراهئ دے ﴿اَسْمِعْ بِهِمْ وَاَبْصِرْ﴾ صیغے دَ فعل تعجب دی دلالت کوی په مبالغه باندے۔

[۳۹] دیکښ هم تخویف اخروی دے اوبیا زجردے ﴿يَوْمَ الْحَسْرَةِ﴾ داورته څکه وائي چه دامنکرین به پکښ افسوسونه اوحسرت کوی په توحید پسے لکه په سورة حجر (۲) کښ اوپه اتباع رسول پسے لکه سورة فرقان (۲۷) کښ او په ایمان بالاخرة پسے لکه سورة انعام (۳۱) کښ اوپه قرآن پسے لکه سورة انعام (۲۷) کښ ﴿اِذْ قُضِيَ الْاَمْرُ﴾ تقدیردَ عبارت دا دے یتحسرون اذقضی الامر۔

[٤٠] په دے کښ اثبات دَ تصرف دَ اللّٰه تعالیٰ دے اواشاره ده چه ټول عالم به فناشی اویواللّٰه تعالیٰ به باقی وی اودا علت دے دَ دے قول چه اذقضی الامر، یعنی اللّٰه تعالیٰ فیصله دَ انصاف کولے شی څکه چه هغه مالك دے۔

[٤١] دا دریمه واقعه ده دَ ابراهیم(علیه السلام) اوجواب دَشبهے دے۔ شبهه دَ مشرکینودا وه چه ابراهیم(علیه السلام) اللّٰه تعالیٰ ته داسے مقرب اونزدے وو چه اللّٰه تعالیٰ ورته تصرفات سپارلی ووَ دے وجے نه مشرکین مکه

وَلَا يُغۡنِ عَنۡكَ شَيۡـًٔا ﴿٤٢﴾ يَٰٓأَبَتِ إِنِّي قَدۡ جَآءَنِي مِنَ ٱلۡعِلۡمِ مَا لَمۡ يَأۡتِكَ فَٱتَّبِعۡنِيٓ أَهۡدِكَ صِرَٰطًا سَوِيًّا ﴿٤٣﴾
يَٰٓأَبَتِ لَا تَعۡبُدِ ٱلشَّيۡطَٰنَۖ إِنَّ ٱلشَّيۡطَٰنَ كَانَ لِلرَّحۡمَٰنِ عَصِيًّا ﴿٤٤﴾ يَٰٓأَبَتِ إِنِّيٓ أَخَافُ أَن يَمَسَّكَ عَذَابٞ مِّنَ
ٱلرَّحۡمَٰنِ فَتَكُونَ لِلشَّيۡطَٰنِ وَلِيّٗا ﴿٤٥﴾ قَالَ أَرَاغِبٌ أَنتَ عَنۡ ءَالِهَتِي يَٰٓإِبۡرَٰهِيمُۖ لَئِن لَّمۡ تَنتَهِ لَأَرۡجُمَنَّكَ

اونه لرے کولے شی ستانه هیڅ تکلیف (٤٢) اے پلاره زما یقیناً راغلے دے ماته دَ علم (وحی) نه هغه چه تاله نه دے راغلے نو تابعداری اوکړه زما اوبه ځایم تاته لار برابر (٤٣) اے پلاره زما بندګی مه کوه دَ شیطان یقیناً شیطان دَ رحمان نه نافرمان دے (٤٤) اے پلاره زما یقیناً یره کژوم چه اوبه رسی تاته عذاب دَ طرف دَ رحمٰن نه نو پس شے به ته دَ شیطان ملګرے (٤٥) اُوئیل پلار ایا مخ ګرځوے ته زما دَ مددګارانونه اے ابراهیم که چرے منع نه شوے ته نو په کانړوبه دے اوولم

صورت دَ ابراهیمؑ په کعبه کښ کیښودلے وواوبه لاس کښ ورله ازلام ورکړی وو اشاره ده چه دے دَانسانانو په قسمت کښ تصرف لری حاصل جواب دا دے چه ابراهیمؑ خودَتوحید دَ وجے دَپلارنه برائت کړے وو نوهغه څه رنګه دَاللّٰه تعالیٰ سره شریك کیدیشی او اللّٰه تعالیٰ ته عاجزی کوؤنکے وواواللّٰه تعالیٰ ته محتاج وو ﴿فِي الْكِتٰبِ﴾ اشاره ده چه دَ ابراهیمؑ واقعات دَاللّٰه تعالیٰ دَکتاب موافق بیان کړه دَمشرکانودَ قصومطابق نه ﴿صِدِّيقًا﴾ هغه څوك وی چه دین دَ اللّٰه تعالیٰ بنکاره بیانوی او دَ هیچا لحاظ نه کوی نو ابراهیمؑ دَ خپل پلار لحاظ هم نه دے کړے اودا دلیل دے چه ده دروغ نه دی وئیلی او ثلث کذبات چه کوم دی هغه تورئیے دی دروغ نه دی۔

[٤٢] پدے آیت کښ دَپلاردعوت ئیے توحید ته کړے دے په نرمه طریقه سره اوطلب دَ دلیل ئیے ترینه په عبادت غیراللّٰه باندے کړے دے په لفظ دَلمَ سره۔ اوپدے آیت کښ اشاره ده صفاتودَمعبود بالحق ته اونفی دَ دے صفاتودَغیر اللّٰه نه، هغه درے صفات دی آوریدل دَهرڅه، لیدل دَ هرڅه، اومصیبتونه دفع کول او دا درے په هیڅ مخلوق کښ نیشته که انبیاء وی اوکه اولیاء وی اوکه مړه وی اودَ دے ترتیب دا دے چه اول اوریدل دی نوپه هغے سره توبه پیداشی نونظر اوکړی نوپس دَ هغے حاجت روائي کوی۔

[٤٣] پدے آیت کښ دعوت دے اتباع دَ رسول ته روستو دَ بیان دَ توحید نه۔ چونکه شبه کیدے شوه چه ابراهیمؑ پلار ته وائي ﴿فَاتَّبِعْنِيٓ﴾ دا خوبے ادبی ده نو اول ئیے علت دَ اتباع ذکرکړو ﴿قَدْ جَآءَنِيْ مِنَ الْعِلْمِ﴾ یعنی ماته وحی راغلے وه او اشاره ده چه په اتباع دَ نبی کښ هدایت دَ صراط مستقیم منحصردے۔

[٤٤] په دے کښ نهی ده دَ اتباع دَ شیطان نه، که انسی وی اوکه جنی وی ځکه چه هغه منع کول کوی دَتوحید اودَ اتباع رسول نه چه دواړه محکمین بیان شول۔ اودے آیت کښ عبادت په معنیٰ دَ طاعت دے لکه په سورة یٰس (٦٠) کښ دی اشاره ده چه اطاعت دَغیراللّٰه په تحلیل اوتحریم کښ بے دلیله داعبادت دَ هغه دے ﴿عَصِيًّا﴾ اشاره ده چه دَهیڅ عاصی اطاعت جائزنه دے ﴿وَلِيًّا﴾ اوشیطان خوامداد دَخپلودوستانوسره نشی کولے۔

[٤٥] په دے آیت کښ تخویف دے اوعلت دے دَپاره دَنهی دَ اطاعة الشیطان نه چه محکمی ایت کښ ذکر شوه۔

وَاهْجُرْنِيْ مَلِيًّا ﴿٤٦﴾ قَالَ سَلٰمٌ عَلَيْكَ ۚ سَاَسْتَغْفِرُ لَكَ رَبِّيْ ۭ اِنَّهٗ كَانَ بِيْ حَفِيًّا ﴿٤٧﴾ وَاَعْتَزِلُكُمْ وَمَا تَدْعُوْنَ
مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَاَدْعُوْا رَبِّيْ ڰ عَسٰٓى اَلَّآ اَكُوْنَ بِدُعَاۗءِ رَبِّيْ شَقِيًّا ﴿٤٨﴾ فَلَمَّا اعْتَزَلَهُمْ وَمَا يَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ
اللّٰهِ ۙ وَهَبْنَا لَهٗٓ اِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ ۭ وَكُلًّا جَعَلْنَا نَبِيًّا ﴿٤٩﴾ وَوَهَبْنَا لَهُمْ مِّنْ رَّحْمَتِنَا وَجَعَلْنَا لَهُمْ لِسَانَ صِدْقٍ
عَلِيًّا ﴿٥٠﴾ وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ مُوْسٰٓى ڔ اِنَّهٗ كَانَ مُخْلَصًا وَّكَانَ رَسُوْلًا نَّبِيًّا ﴿٥١﴾ وَنَادَيْنٰهُ مِنْ جَانِبِ الطُّوْرِ

اولرے شه ځمانه ډیره موده (٤٦) اُوئیل ابراهیم(علیه السلام) سلام دَ جدائیے دے تاته زر دے بخنه به غواړم تاره دَ رب خپل نه یقیناً هغه په ما باندے ډیر مهربان دے (٤٧) اوبه ډ ډه کیږم ستاسونه او دَ هغه چانه چه تاسو ورته رامددشه وائے سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه او دُعا غواړم دَرب خپل نه امید دے چه نه یم ځه په وجه دَ دُعا غوښتلو دَ رب زما نه بدبخته (محرومه)(٤٨) پس هر کله چه ډ ډه ئے اوکړه دَ دوی نه او دَهغه چانه چه دوی ئے بندگی کوله سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه اوبخلو مونږ دهٔ ته اسحاق او یعقوب او هر یو مونږ مقررکړے ژو پیغمبر (٤٩) اوبخلی ژو مونږ دوی ته ډیر دَ رحمتونو خپلونه اوګرځولے ژو مونږ دوی لره ذکر نیك اوچت (٥٠) او یادکړه دوی ته دَ نصیحت په طور په دے کتاب کښے حال دَ موسیٰ(علیه السلام) یقیناً هغه پاك ساتلے شوے ژو او ژو رسول نبی (٥١) او اواز ورکړو مونږ هغه ته دَ ځی طرف دَ طور نه

فائده: په دے ځلورو ایاتونو کښ دَ دعوت طریقه اوترتیب ذکرشوے دے۔

[٤٦] په دے ایت کښ ذکردَتشدد دَ پلار دے په ابراهیم(علیه السلام) باندے اول زورنه دویم دباؤ کول په رجم سره دریم شرل دَ هغه ﴿اِلٰهَتِيْ﴾ کښ اشاره ده چه پلاردَ ابراهیم(علیه السلام) دَ ډیرو الهوعبادت کوو اودارنګ الهه ئے دَنورو خلقودَپاره جوړول اوهغوی ته به ئے دعوت دَ شرك ورکوؤ یعنی ضال هم وؤاومضل هم وؤ ﴿لَاَرْجُمَنَّكَ﴾ دَ دے دوه معنے دی اوله معنیٰ په ګټوسره ویشتل اودویمه معنیٰ کنځل کول ﴿مَلِيًّا﴾ ډیره موده همیشه یا سالماً بچ چه تاته تکلیف اونه رسیږی زما دَ طرف نه۔

[٤٧] پدیکښ اشاره ده چه ابراهیم(علیه السلام) دَتشدد په مقابله کښ نرمی کړے ده اودلته دَسلام نه مراد تحیه نه ده بلکه متارکت (پریخودل) دی په ښه طریقے سره ځکه چه کافرباندے ابتدا دَ سلام اتفاقاً منع ده نو معنیٰ دا ده چه (زما ستانه په خیراوسلامتیا سره جدا کیدل دی) اودا طریقه دَنیکانوده لکه سورة فرقان (٦٣) اوقصص (٥٥)کښ دی اودَ سلام اقسام په تفسیردَ سورة انعام (٥٤)کښ تیرشوی دی او ﴿سَاَسْتَغْفِرُ لَكَ رَبِّيْ﴾ دَ دے تشریح په تفسیردَ سورة توبه (١١٤)کښ تیره شویده۔

[٤٨] په دے ایت کښ ذکردے برائت دَ ابراهیم(علیه السلام) دَ مشرکانونه اودَ هغوی دَ شرکی طریقونه هم۔ پدے کښ اشاره ده چه مؤحد باندے پس دَ دعوت دَتوحید نه لازم دی چه دَمشرکانواودَ هغوی دَطریقونه به برائت کوی ﴿وَاَدْعُوْا رَبِّيْ﴾ دَ دے نه مراد دُعا دَ استغفارده دَپاره دَپلاریا مراد دَ دے نه طلب کول دی دَ اولاد دَ پاره ملګرتیا دَ دعوت دَتوحید لکه سورة صافات (١٠٠)کښ ذکر راځی یا مراد دَ دے نه عامه دُعا ده چه مختص ده په رب تعالیٰ پورے۔

[٤٩،٥٠] دَبرائت کولوپه وجه اللّٰه تعالیٰ په دهٔ باندے ځلورانعامات ذکر کوی۔ (١) اسحاق ځوئے اویعقوب نوسے هبه کول او (٢) هغوی لره نبوت ورکول او (٣) ټولوله دَ رحمت خاصه دَ اللّٰه تعالیٰ نه

الْاَيْمَنِ وَقَرَّبْنٰهُ نَجِيًّا ﴿۵۲﴾ وَوَهَبْنَا لَهٗ مِنْ رَّحْمَتِنَآ اَخَاهُ هٰرُوْنَ نَبِيًّا ﴿۵۳﴾ وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ اِسْمٰعِيْلَ ۚ اِنَّهٗ
كَانَ صَادِقَ الْوَعْدِ وَكَانَ رَسُوْلًا نَّبِيًّا ﴿۵۴﴾ وَكَانَ يَاْمُرُ اَهْلَهٗ بِالصَّلٰوةِ وَالزَّكٰوةِ ۪ وَكَانَ عِنْدَ رَبِّهٖ
مَرْضِيًّا ﴿۵۵﴾ وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ اِدْرِيْسَ ۫ اِنَّهٗ كَانَ صِدِّيْقًا نَّبِيًّا ﴿۵۶﴾ وَّرَفَعْنٰهُ مَكَانًا عَلِيًّا ﴿۵۷﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ اَنْعَمَ

او نزدیکړے ؤو مونږ دے راز دار (۵۲) او بخلے ؤو مونږ دهٔ ته دَ وجے دَ رحمت زمونږ نه ورور دَ دهٔ هارون(علیه السلام) نبی (۵۳) او یاد کړه دَ نصیحت په طور په دے کتاب کښے اسماعیل(علیه السلام) یقیناً دے ؤو رشتینے لوظ والا او ؤو دے رسول نبی (۵٤) او دهٔ به حکم کؤو تابعدارو خپلو ته دَ مونځ کولو او زکوٰة ورکولو او ؤو دے په نیز دَ رب خپل غوره کړے شوے (۵۵) او یاد کړه دَ نصیحت په طور په دے کتاب کښے ادریس(علیه السلام) یقیناً دے ؤو رشتینے نبی (۵٦) او پورته کړے ؤو مونږ دهٔ لره مرتبے اوچتے ته (۵۷) دا هغه خلق دی چه انعام کړے ؤو

پوره برخه ورکول اودَ هغے تفسیرسورة انبیاء (۷۲، ۷۳) کښی ذکر دے۔ او(٤) دَ هغوی مدح او ثنا اونیك ذکر په روستو خلقو کښی جاری ساتل او﴿عَلِيًّا﴾ کښی اشاره ده عموم دَ دغه ذکر حسن ته په ټولو ملّتونو کښی نواشاره ده چه دَ شرك اودَمشرکانونه په برائت کولوسره دِیر انعامات حاصلیږی۔

[۵۱،۵۲،۵۳] دا دَ ځلورمے شبهے جواب دے۔ شبه په باره دَ موسیٰ(علیه السلام) کښی ده چه دَ موسیٰ(علیه السلام) دَ دِیرمعجزاتونه دلیل نیسی دَهغه په قدرت اوتصرفاتوباندے اوالله تعالیٰ سره ئے شریکوی۔ حاصل دَجواب دا دے چه موسیٰ(علیه السلام) په ټولوکمالاتو کښی الله تعالیٰ ته محتاج ووپدے آیاتونوکښی کلمه دَ (فا) دلالت کوی په دے باندے۔ اوپه دے آیاتونوکښی دَ موسیٰ(علیه السلام) شپږ صفات اوکمالات ئے ذکرکړی دی۔ اوهغه دلالت کوی دَ هغه په عبدیت اوپه احتیاج الی الله باندے ﴿مُخْلَصًا﴾ نه مراد غوره کړے شوے او دَګناهونو نه پاك ساتلے شوے۔ په دے کښی اشاره ده عصمت دَ هغه ته ﴿رَسُوْلًا نَّبِيًّا﴾ مراد دا چه دواړو صفتونوکښی نسبتی فرق دے یعنی رسول من جانب الله اونبی الی الخلق ﴿مِنْ رَّحْمَتِنَآ﴾ کښی مطلب دا چه دَ دهٔ دُعا په باره دَ رورکښی قبلول دا دَ الله تعالیٰ رحمت دے دا څه زوردَ هغه په الله تعالیٰ باندے نه وو﴿وَنَادَيْنٰهُ﴾ دَ دے تفصیل ورپسے سورة طٰهٰ کښی ذکرکړے دے۔

[٥٤،٥٥] پدیکښی جواب دَ پنځمے شبهے دے ځکه چه مشرکین مکه صورت دَ اسمٰعیل(علیه السلام) په کعبه کښی کیخودلے وؤ اوپه لاس کښی ئے ورله ازلام دَ قسمت ورکړی وؤ عقیده ئے داوه چه دے متصرف او واکدار دَ قسمتونودے۔ حاصل دَجواب په اثبات دَعبدیت اودَعجز دَ هغه دے په ذکرکولودَپنځه صفاتو سره﴿صَادِقَ الْوَعْدِ﴾ صدق دَ وعدے دَ ټولوانبیاؤصفت دے لیکن خصوصیت دَ اسماعیل(علیه السلام) په وجه دَخاص واقعاتوسره دے لکه وعده دَ پلارسره دَ صبرعلی الذبح دارنګ وعده کول دَیوکس سره اوپه هغے ځائے کښی درے ورځے انتظارکول دا روایت دَابوداؤد کښی دی ﴿رَسُوْلًا نَّبِيًّا﴾ دا دلیل چه دَرسول سره دَنوی کتاب موجودیدل ضروری نه دی خوچه دَ وحی په تبلیغ باندے مکلف وی نورسول دے اوداشرافت دَاسمٰعیل(علیه السلام) دے په اسحٰق(علیه السلام) باندے ځکه چه دَهغه په صفت کښی رسول نه دے وئیلے شوے﴿وَكَانَ يَاْمُرُ اَهْلَهٗ﴾مراد دَ دے نه دَهغه ټول امتیان دی اوهغه بنوجرهم قبیله وه۔اشاره ده دعوت الی عبادة الله سره

اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِّنَ النَّبِيّٖنَ مِنْ ذُرِّيَّةِ اٰدَمَ ۗ وَمِمَّنْ حَمَلْنَا مَعَ نُوْحٍ ۗ وَّمِنْ ذُرِّيَّةِ اِبْرٰهِيْمَ وَاِسْرَآءِيْلَ ۗ وَمِمَّنْ هَدَيْنَا وَاجْتَبَيْنَا ۗ اِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيٰتُ الرَّحْمٰنِ خَرُّوْا سُجَّدًا وَّبُكِيًّا ﴿٥٨﴾ فَخَلَفَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ اَضَاعُوا الصَّلٰوةَ وَاتَّبَعُوا الشَّهَوٰتِ فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا ﴿٥٩﴾ اِلَّا مَنْ تَابَ وَاٰمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا

السجدة ٥

اللّٰه تعالیٰ په هغوی باندے دَ انبیاؤ نه دَ اولاد دَ آدم(علیه السلام) نه دی او دَ (اولاد) دَهغه چانه چه سواره کړی ژومونږ سره دَ نوح(علیه السلام) نه او دَ اولاد دَ ابراهیم(علیه السلام) اویعقوب(علیه السلام) نه ژو او دَهغه خلقونه چه مونږ ورته هدایت کړے ژو او غوره کړی ژو مونږ هر کله چه لوستلے کیدل به په هغوی باندے ایاتونه دَ رحمان نو غورځیدل به سجده کؤونکی ژړا کؤونکی (٥٨) پس راغلل دَ دے نه روستو ناکاره نائبان چه برباد ئے کړو مونځ لره او روان شو دَ (نفس) په خواهش پسے نوزردے چه مخامخ به شی سزا دَسر کشئ ته (٥٩) لیکن هغه څوك چه توبه ئے ویستلے ده دَ شرك نه او ایمان ئے راوړے دے اوعمل ئے کړے دے په طریقه دَ سنت ئے ډیرمحبت ووهروخت به په دیکښ مشغول وؤ۔

[٥٦،٥٧] پدیکښ جواب دَ شپږمے شبهے دے چه دَ ادریس(علیه السلام) په باره کښ یهودیانودروغ قصے مشهورے کړے دی بعض صوفیانووئیلی دی چه ادریس(علیه السلام) الیاس دے اودَ خضرپشان ژوندے دے او دَخلقو دَحاجاتوپوره کولودَپاره په اوچه کښ ګرځی دَ دے قصّونه معلومیږی چه دے هم قدرت اوتصرف دَ الوهیت لری۔ حاصل دَ جواب دا دے چه په دهٔ کښ دَ عبدیت صفات وؤ(صدیقیت اونبوت) اوالله تعالیٰ ته محتاج وؤرفعت دَمرتبه کښ ﴿رَفَعْنَاهُ مَكَانًا عَلِيًّا﴾ دَ دے نه مراد اوچت والے دَمرتبے دَهغه دے په نیزدَ الله تعالیٰ اودَهغے په مقداربانده الله تعالیٰ عالم دے۔ یا مراد دَ دے نه لیدل دَ رسول الله ﷺ دی دهٔ لره په شپه دَ معراج په څلورم اسمان کښ اودَ دے نه علاوه نورے قصے دَ دهٔ یعنی دَملك سره جنت ته تلل اوجنت کښ پاتے کیدل وغیره اسرائیلیات دی۔

فائده: دَ قرآن کریم دَظاهرنه معلومیږی چه ادریس(علیه السلام) دَ ابراهیم(علیه السلام) نه روستونبی ووادداچه مشهوره ده چه دَ دهٔ نوم اخنوخ ووادَ نوح(علیه السلام) په دریم پشت کښ نیکهٔ ووداخبره صحیح ثابت نه ده۔

[٥٨] په دے آیت کښ دعویٰ دَ سورة ده یعنی عبدیت اوعجزدَانبیاؤعلیهم السلام اواحتیاج دَ هغوی الله تعالیٰ ته یعنی دوی په انعام (حمل په کشتئ کښ) اوهدایت اواجتباء کښ الله تعالیٰ ته محتاج وو۔ اوعجز دا دے چه اولاد ئے وؤ۔ پلاران اونیکونه ئے وو۔ اوعبدیت دا دے چه الله تعالیٰ ته ئے سجده اوژړاکوله اوپه دے آیت کښ ئے دَځلورانبیاؤ نومونه په دے وجه سره ذکرکړی دی چه دوی آباء وویعنی آدم(علیه السلام) اب اول وواونوح(علیه السلام) اب ثانی ووَ ټولوانسانانو۔ اوابراهیم اواسماعیل علیهما السلام آباء دَپیغمبرانو وو﴿اَنْعَمَ﴾ کښ اشاره ده نبوت ته ﴿هَدَيْنَا﴾ کښ اشاره ده توحید ته﴿وَاجْتَبَيْنَا﴾ کښ اشاره ده نورلویوصفاتوته۔

[٥٩]داجواب دَشبهے دے۔شبه داده چه دَانبیاؤدَواقعاتونه معلومه شوه چه توحید صحیح دین دے نودَهغے نه دامخالف ادیان څنګه پیداشول۔نوجواب اوشوچه دَ انبیاء علیهم السلام نه روستوناکاره خلق په امت کښ پیدا شول اوهغوی دَ انبیاؤدین برباد کړے دے اوبربادول په دووطریقوسره دی اوله طریقه

فَاُولٰٓئِكَ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ وَلَا يُظْلَمُوْنَ شَيْـًٔا ﴿٦٠﴾ جَنّٰتِ عَدْنِ ِۨالَّتِيْ وَعَدَ الرَّحْمٰنُ عِبَادَهٗ بِالْغَيْبِ ؕ
اِنَّهٗ كَانَ وَعْدُهٗ مَاْتِيًّا ﴿٦١﴾ لَا يَسْمَعُوْنَ فِيْهَا لَغْوًا اِلَّا سَلٰمًا ؕ وَلَهُمْ رِزْقُهُمْ فِيْهَا بُكْرَةً وَّعَشِيًّا ﴿٦٢﴾ تِلْكَ
الْجَنَّةُ الَّتِيْ نُوْرِثُ مِنْ عِبَادِنَا مَنْ كَانَ تَقِيًّا ﴿٦٣﴾ وَمَا نَتَنَزَّلُ اِلَّا بِاَمْرِ رَبِّكَ ۚ لَهٗ مَا بَيْنَ اَيْدِيْنَا وَمَا
خَلْفَنَا وَمَا بَيْنَ ذٰلِكَ ۚ وَمَا كَانَ رَبُّكَ نَسِيًّا ﴿٦٤﴾ ۚ رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا فَاعْبُدْهُ وَاصْطَبِرْ

نو دغه کسان به داخلیږی جنت ته اوظلم به نه کیږی په دوی باندے هیڅ (ظلم) (٦٠) جنتونه دَ همیشه اوسیدلو هغه چه وعده کړیده رحمان دَ بندګانو خپلو سره په غیب باندے چه نه دی لیدلی دا جنتونه یقیناً وعده دَ اللّٰه پوره کیدیشی (٦١) نه به اوری په هغے کښے بے فائدے خبرے لیکن اوری به سلامونه او دوی لره رزق دَ دوی دے په هغے کښے صبائی او بیګائی (٦٢) دا هغه جنت دے چه ورکؤو (بے عوضه) هغه چاته چه وی دَ بندګانو زمونږنه هغه څوك چه وی تقویٰ (توحید) والا(٦٣) او (وائی ملائك) مونږ نه شو راکوځیدے مګر په حکم دَ رب ستا دَ هغه اختیار کښے دی هغه څه چه زمونږ نه مخکښے دی اوهغه چه روستو دی او هغه چه په مینځ دَ دے کښے دی اونه دے ستارب هیره ؤونکے (٦٤) رب دَ اسمانونو او دَزمکے دے او دَهغه څه چه په مینځ دَ دے کښ دی پس بندګی خاص کړه هغه لره اوځان کلك لره

﴿اَضَاعُوا الصَّلٰوةَ﴾ مرادترینه ټول دین دے ځکه چه اضاعت دَصلوٰة سره لازمیږی اضاعت دَټول دین ته اومطلب دا دے چه طریقه دَ انبیاؤئیے پریخودله اودویمه طریقه ﴿وَاتَّبَعُوا الشَّهَوٰتِ﴾ مراد دا دے چه دَخپل خواهشاتوموافق دین ئیے ایجادکړوحاصل دا چه توحید اوسنت ئیے پریخودل اوشرك اوبدعت پسے روان شول ﴿خَلْفٌ﴾ په سکون دَلام سره ناکاره جانشین ته وائي ﴿غَيًّا﴾ دا نوم دَ یووادیٔ (یاکنده) دے اویاپه معنیٰ دَسرکشیٔ اودَګمراهئی دے نومراد ترینه جزاء الغیی ده یاپه معنیٰ دَخسران دے۔

فائده: سورة اعراف (١٦٦)کښ دَ هغه خلقوذکردے چه نیمګړی ملایان وو۔ اوسبب دَګمراهئی حرص دَ دنیا دے۔ اوپه دیے آیت کښ ذکردَعاموخلقو دے چه دین ئیے بربادکړے دے اوسبب ئیے جهل اواتباع دَشهواتودے ﴿اَضَاعُوا الصَّلٰوةَ﴾ بربادی عامه ده پریخودل اودَوختونونه روستوکول اوتعدیل دَ ارکانونقصانی کولوته شامل دے اودَحسن بصری نه روایت دے چه جماعات دَمونځونوپریږدی اوپه زمکوپسے شویدی دا ټول اضاعوا الصلوٰة کښ شامل دی۔

[٦٠،٦١،٦٢،٦٣] پدیکښ اشاره ده چه روستودَ انبیاؤنه بعض خلق صالحین هم شته اودَ هغوی صفات ئیے بیان کړل اوهغوی دَپاره بشارت دے په اوو احوالودَ جنت سره ﴿اِلَّا سَلٰمًا﴾ استثناء منقطع ده یعنی لکن یسمعون سلامًا اومراد ترینه سلام دَ یوبل اوسلام دَملائکواوسلام دَ اللّٰه تعالیٰ دے اومطلب ئیے دا دے چه نه به اوری په هغے کښ مګرداسے خبرے چه محبوبے وی ﴿بُكْرَةً وَّعَشِيًّا﴾ په معنیٰ دَ دوام اودَ همیشوالی دے په دلیل دَسورة واقعه (٣٣) سره اوابن عباس رضی اللّٰه عنهما نه روایت دے چه مقدارد ورځے اودَ شپے مراد دے ځکه چه جنت کښ بکرة اوعشی اوشپه نیشته دے او اخری آیت کښ سبب دَ استحقاق دَ جنت ئیے ذکرکړے دے چه هغه تقویٰ ده۔

[٦٤،٦٥] پدے دوه آیاتونو کښ دَ سورة دویم باب دے په دے کښ بیان دَ عجزدَملائکودے اواحتیاج دَ

لِعِبَادَتِهٖ ؕ هَلْ تَعْلَمُ لَهٗ سَمِيًّا ﴿٦٥﴾ وَيَقُوْلُ الْاِنْسَانُ ءَاِذَا مَا مِتُّ لَسَوْفَ اُخْرَجُ حَيًّا ﴿٦٦﴾ اَوَلَا يَذْكُرُ الْاِنْسَانُ
اَنَّا خَلَقْنٰهُ مِنْ قَبْلُ وَلَمْ يَكُ شَيْـًٔا ﴿٦٧﴾ فَوَرَبِّكَ لَنَحْشُرَنَّهُمْ وَالشَّيٰطِيْنَ ثُمَّ لَنُحْضِرَنَّهُمْ حَوْلَ جَهَنَّمَ

بندگئ دَهغه ته ایا پیژنے ته هغه لره همنامے (هم صفتے)(٦٥) او وائی انسان (کافر) ایا هرکله چه محه مړشم نو خامخا ضرور زربه راویستلے کیږم محه ژوندے (٦٦) ایا نه دی یاد دے انسان ته چه یقیناً پیدا کړے ؤو مونږ دے پرواندے دَ دے نه اونه ؤو دے هیڅ شے (٦٧) نو قسم دے ستا په رب باندے ضرورېه یوځائے کؤو دوی لره او شیطانانو لره بیا به ضرور حاضره ؤو دوی لره چاپیره دَ جهنم نه

هغوی په ټولو حالاتو کښ ذکرکوی حتیٰ که زمکے ته راکوځیدلو کښ اللّٰه تعالیٰ ته محتاج دی او رد دَ شرك فی العبادة ئے کړے دے او اشاره ده رد دَ مشرکین بالملائکه ته۔ دا آیت حکایت دے دَ قول دَ جبرائیل علیه السلام چه نبی ﷺ ورته وئیلی وو(مایمنعك ان تزورنا اکثر مما تزورنا) نو دا آیت نازل شو۔ اوربط دَ آیت دادے چه دا تیرشوے کلام صادق دے محکه دا جبرائیل راوړے دے په امردَ اللّٰه تعالیٰ سره ﴿لَهٗ﴾ یعنیٰ اللّٰه تعالیٰ لره تصرف اوعلم دَ دے ټولوحالاتودے ﴿مَابَيْنَ اَيْدِيْنَا﴾ نه مراد حالات دَ دنیا دی او ﴿وَمَاخَلْفَنَا﴾ نه مراد حالات دَ اخرت دی ﴿وَمَابَيْنَ ذٰلِكَ﴾ مینځ دَ دواړه شپیلو مراد دے ﴿سَمِيًّا﴾ ابن کثیرپه روایت دَ ابن عباس رضی اللّٰه عنهما سره لیکلی دی چه دَ اللّٰه تعالیٰ نه سیوا هیڅوك په رحمان سره نشی مسمّی کیدے او بیا تفریع ده دَ توحید فی العبادة په اثبات دَ توحید دَ ربو بیت باندے۔

[٦٦] دَ دے آیت نه تر اخردَ سورة پورے دریم باب دے په دے کښ شپږ زجرونه دی۔ زجر اول په انکاردَ بعث بعد الموت په (٦٦،٦٧)کښ بیا تخویف اخروی دَ (٦٨) نه تر(٧١) پورے بیا بشارت دے په (٧٢)کښ او دویم زجرپه استکبار بالدنیا سره دے په مقابله دَ قرآن کښ په (٧٣)کښ بیا تخویف دنیوی دے (٧٤،٧٥)کښ بیا بشارت په (٧٦)کښ اودریم زجردعویٰ دَ عزت په سبب شرك سره په (٧٧، ٧٨)کښ اوتخویف اخروی (٧٩،٨٠)کښ اوځلورم زجرپه اتخاذ دَآلهه باطله دَپاره دَ نصرت اودَعزت په (٨١)کښ اوتخویف په (٨٢)کښ اوپنځم زجرپه اتباع دَشیطان په (٨٣،٨٤)کښ بیا بشارت په (٨٥) کښ اوتخویف په (٨٦)کښ اورد دَشفاعت قهریه په (٨٧)کښ اوشپږم زجرپه اتخاذ الولد دَ (٨٨) نه تر(٩٢) پورے بیا دعویٰ دَسورة په (٩٣،٩٤،٩٥)کښ بیا بشارت دے په (٩٦)کښ اوبیا ترغیب الی القرآن دے په (٩٧)کښ اوتخویف دنیوی په (٩٨)کښ۔ په دے(٦٦)کښ زجردے په انکار دَبعث بعدالموت۔ اواستفهام انکاری دے۔ ربط دادے چه دَ ابتدا دَ سورة نه رد وو په شرك دَمشرکانوباندے په ذکردَحالاتودَانبیاؤاوملائکوسره نواوس ردکوی دَ مشرکانو په بله عقیده باندے چه انکار دے دَ بعث بعد الموت نه۔

[٦٧] په دیکښ رد دے په منکرینو دَ بعث باندے اواثبات دَ بعث دے په دلیل دَ اول ژوند سره اوداسے په سورة اعراف (٢٩) او سورة یٰس (٧٩)کښ هم موجود دی۔

جِثِيًّا ﴿٦٨﴾ ثُمَّ لَنَنْزِعَنَّ مِنْ كُلِّ شِيْعَةٍ اَيُّهُمْ اَشَدُّ عَلَى الرَّحْمٰنِ عِتِيًّا ﴿٦٩﴾ ثُمَّ لَنَحْنُ اَعْلَمُ بِالَّذِيْنَ هُمْ
اَوْلٰى بِهَا صِلِيًّا ﴿٧٠﴾ وَاِنْ مِّنْكُمْ اِلَّا وَارِدُهَا ۚ كَانَ عَلٰى رَبِّكَ حَتْمًا مَّقْضِيًّا ﴿٧١﴾ ثُمَّ نُنَجِّي الَّذِيْنَ اتَّقَوْا وَّنَذَرُ
الظّٰلِمِيْنَ فِيْهَا جِثِيًّا ﴿٧٢﴾ وَاِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيٰتُنَا بَيِّنٰتٍ قَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا ۙ اَيُّ الْفَرِيْقَيْنِ خَيْرٌ
مَّقَامًا وَّاَحْسَنُ نَدِيًّا ﴿٧٣﴾ وَكَمْ اَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ مِّنْ قَرْنٍ هُمْ اَحْسَنُ اَثَاثًا وَّرِءْيًا ﴿٧٤﴾ قُلْ مَنْ كَانَ فِي الضَّلٰلَةِ

په زنګونانو باندے پراته (٦٨) بیابه رااوکاکو دَ هرے ډلے نه کوم یو دَ دوی چه ډیر سخت ؤو په رحمان باندے په نافرمانئ کښے (٦٩) بیا مونږ ښه خبر یو په هغه کسانو چه هغوی ښه حقدار وی جهنم ته دَ داخلیدلو (٧٠) اونیشته ستاسو نه څوك مګر ورځی به جهنم ته ده ستا په رب باندے ضروری فیصله کړیشوے (٧١) بیابه بچ کړو مونږ هغه کسان چه دَ شرك نه ئے ځان ساتلے ؤو او پریږدو مونږ ظالمانو لره په هغے کښے په زنګونانو باندے پراته (٧٢) اوکله چه اولوستلے شی په دوی باندے ایاتونه زمونږ صفاصفا بیان والا وائی هغه کسان چه کافران دی په باره دَ مؤمنانو کښے چه کم یو دَ دواړو ډلو نه ښه ځائے والادے او خائسته مجلس والا دے (٧٣) او ډیر هلاك کړی دی مونږ وړاندے دَ دوی نه قومونه دَیو زمانے چه هغوی خائسته سامان والاؤو او شکل والا ؤو (٧٤) ته اُوایه څوك چه وی په ګمراهئ کښ

[٦٨] پدیکښ قسم دے په اثبات دَ حشر باندے اوبیا تخویف اخروی دے اوقسم کول دَ اللّٰه تعالیٰ په خپل ذات باندے دَپاره دَاثبات دَقیامت په قرآن کریم کښ څلورکرته ذکردے یوکرت په سورة یونس (٥٣)کښ دویم کرت سورة سبا (٣)کښ دریم کرت سورة تغابن (٧)کښ اوځلورم کرت دلته ﴿وَالشَّيٰطِيْنَ﴾ انسی اوجنی دواړوته شامل دے ﴿جِثِيًّا﴾ په زنګنانو باندے ناست وی دَډیرهیبت دَ وجے نه یا دَ دے وجے نه چه دوی په دنیاکښ خپلومعبودانوته به دغسے پراته وؤیا جثیاً په معنیٰ دَ جماعتونوسره دے۔

[٦٩] داهم داخل دے په تخویف اخروی کښ او ﴿اَيُّهُمْ اَشَدُّ﴾ نه مراد مشراوامام دَکافرانو دے ﴿شِيْعَةٍ﴾ هغه ډله چه په خپل مسلك کښ دَبل تابع اومقلد وی که نیك وی اوکه بدوی دلته خوناکاره مراد دی اوایُّهُمْ اَشَدُّ کښ هغه سرکش مراد دے چه دوی دَ هغه تقلید کړے ؤو۔

[٧٠] داهم په تخویف اخروی کښ داخل دے اومراد دَ دے نه اهل شرك دی که کشران وی اوکه مشران وی۔

[٧٢،٧١] داهم تخویف اخروی دے ﴿وَارِدُهَا﴾ پدیکښ توجیهات دی، اوله توجیه داده چه ورود په معنیٰ دَ دخول دے یعنی هرمؤمن اومشرك به جهنم ته داخل کړے شی مؤمن به صرف دَسیل دَپاره اومشرك دَ عذاب دَپاره نوآیت (٧٢)کښ بیا دَ هغے تفصیل دے نجات دَ مؤمنانو، اوخلود دَ ظالمانو، دویمه توجیه دا ده چه ورود په معنیٰ دَ ورتیریدلو دے یعنی تاسو ټول به دَ جهنم دَ پاسه ورتیریږئ، دریمه توجیه دا ده چه منکم خطاب صرف کافرانوته دے او ورود په معنیٰ دَ دخول سره دے اوثُمَّ دپاره دَ تعقیب ذکری دے۔ څلورمه توجیه ورود په معنیٰ دَاطلاع اودَ قرب دے یعنی تاسوټول به دَجهنم نه خبر شئ ﴿الَّذِيْنَ اتَّقَوْا﴾ مخکښ هم تیرشول په (٦٣)کښ چه جنت په تقویٰ سره ورکوی۔

[٧٣] دے ایت کښ دویم زجردے په استکباربالدنیا په مقابله دَ قرآن کښ۔ یعنی چه قرآن لوستلے کیږی

فَلْيَمْدُدْ لَهُ الرَّحْمٰنُ مَدًّا ۚ حَتّٰٓى اِذَا رَاَوْا مَا يُوْعَدُوْنَ اِمَّا الْعَذَابَ وَاِمَّا السَّاعَةَ ؕ فَسَيَعْلَمُوْنَ مَنْ هُوَ
شَرٌّ مَّكَانًا وَّاَضْعَفُ جُنْدًا ﴿٧٥﴾ وَيَزِيْدُ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اهْتَدَوْا هُدًى ؕ وَالْبٰقِيٰتُ الصّٰلِحٰتُ خَيْرٌ عِنْدَ
رَبِّكَ ثَوَابًا وَّخَيْرٌ مَّرَدًّا ﴿٧٦﴾ اَفَرَءَيْتَ الَّذِيْ كَفَرَ بِاٰيٰتِنَا وَقَالَ لَاُوْتَيَنَّ مَالًا وَّوَلَدًا ﴿٧٧﴾ اَطَّلَعَ الْغَيْبَ
اَمِ اتَّخَذَ عِنْدَ الرَّحْمٰنِ عَهْدًا ﴿٧٨﴾ كَلَّا ؕ سَنَكْتُبُ مَا يَقُوْلُ وَنَمُدُّ لَهٗ مِنَ الْعَذَابِ مَدًّا ﴿٧٩﴾ وَّنَرِثُهٗ مَا

نومهلت به ورکړی هغه لره رحمٰن مهلت ترڈے پورے چه کله اُوینی دوی هغه چه دوی سره وعده کیدیشی یا عذاب او یا قیامت نوزر ده چه پوهه به شی چه څوك دے بدحال والا اوډیر کمزوری لښکر والا(۷۵) او زیاتوی الله تعالیٰ هغه کسانو لره چه هدایت موندونکی دی نور هدایت او همیشه بدلے والا نیك عملونه ډیر غوره دی په نیزډ رب ستا په بدله کښے او غوره دی په اعتبار ډ ځائے ډ ورګرځیدلو (۷۶) ایا ته خبرئے ډ هغه چا په حال باندے چه کفرئے کړیدے په ایاتونو زمونږ او وائی چه ضرور رابه کړیشی ماته مال او اولاد (۷۷) ایا خبردے ډ غیب په خبرو باندے او ایا اخستے دے دهٔ په نیز ډ رحمٰن لوظ (ډ نجات)(۷۸) هیڅرے داسے نه ده ضرور لیکو مونږ هغه خبرے چه دے وائی او زیاته ؤو دهٔ لره ډ عذاب زیاتول(۷۹) او اخر وابخلو مونږ ډ دهٔ نه هغه

نودوی ډ دنیا په خیزونواوډ دنیا په لویومکانونواوخائسته مجلس باندے تکبرکوی او ترقی ډ دنیا ډ ځان ډ حقانیت ډپاره دلیل جوړوی۔

[۷٤] پدیکښ تخویف دنیوی دے چه په دنیا باندے تکبر ولے کوئے ځکه چه ډیردنیا دارمشرکان هلاك کړے شوی دی ﴿اَثَاثًا﴾ سامانونه ډکوراوډ مجلس، اوډیرو مالونو ته هم وئیلے شی۔

[۷۵] په دے آیت کښ علت ډ دے ذکرکړے شوے دے چه دے کافرانوله ډ دُنیا مالونه او زینت ډ دے وجے نه ورکړے شوے دے چه الله تعالیٰ داسے ګمراهانو له مهلت ورکوی لکه سورة العمران (۱۷۸) اوسورة مؤمنون (۵۵)کښ دی ﴿فَلْيَمْدُدْ﴾ امړپه معنیٰ ډخبردے یعنی مهلت ورکوی یا په معنیٰ ډ دُعا دے او ابن جریروئیلی دی چه دا مباهله ده ډ مشرکانوسرکشانوسره او ﴿شَرٌّ مَّكَانًا وَّ اَضْعَفُ جُنْدًا﴾ په مقابله ډ دے قول کښ دے خیرمقاما واحسن ندیا۔

[۷٦] اوپه دے ایت کښ بشارت دے هغه مؤمنانوته چه قرآن (ایات بینات) بیانوی کوم چه په (۷۳)کښ ذکردی اودا مقابل ډ فلیمدد دے یعنی ډ هغوی سرکشی زیاتی کیږی اوډ مؤمنانو ایمان زیاتیږی او دا دلیل په اثبات ډ زیادت ډ ایمان دے ﴿وَالْبٰقِيٰتُ الصّٰلِحٰتُ﴾داسے په سورة کهف(٤٦)کښ تیرشوی دی هلته ئیے املاذکرکړوپه رد ډهغه چاکښ چه مالونو اوځامنونه امیدونه ډ نفع لری نوځکه ئیے املاوئیلی وؤاودلته دا مقابل دے ډشرمکاناً سره اومردًّا هم مکان دے یعنی جنت دے۔

[۷۷] دا دریم زجردے په تعززاوترقئ حاصلولوسره په سبب ډ شرك ډ ایت مطلب دا دے چه داکافروائي (لکه عاص بن قائل)کله چه څه کلك یم په شرك باندے نودَ دے معبودانوپه برکت سره به ماله په دنیا اوآخرت کښ ترقی حاصله شی۔

[۷۸] دا جواب ډ قول ډ دغه مشرك دے۔ یعنی ایا دے په غیب باندے عالم دے غیب نه مراد دا قول ډ دهٔ

يَقُوْلُ وَيَاْتِيْنَا فَرْدًا ﴿٨٠﴾ وَاتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اٰلِهَةً لِّيَكُوْنُوْا لَهُمْ عِزًّا ﴿٨١﴾ كَلَّا ؕ سَيَكْفُرُوْنَ بِعِبَادَتِهِمْ
وَيَكُوْنُوْنَ عَلَيْهِمْ ضِدًّا ﴿٨٢﴾ اَلَمْ تَرَ اَنَّاۤ اَرْسَلْنَا الشَّيٰطِيْنَ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ تَؤُزُّهُمْ اَزًّا ﴿٨٣﴾ فَلَا تَعْجَلْ
عَلَيْهِمْ ؕ اِنَّمَا نَعُدُّ لَهُمْ عَدًّا ﴿٨٤﴾ يَوْمَ نَحْشُرُ الْمُتَّقِيْنَ اِلَى الرَّحْمٰنِ وَفْدًا ﴿٨٥﴾ وَّنَسُوْقُ الْمُجْرِمِيْنَ اِلٰى جَهَنَّمَ وِرْدًا ﴿٨٦﴾

وقف لازم

چه دوی وائی او راځی به مونږته یواځے (٨٠) او نیولی دی دوی سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه حقدار دَ بندګئ دے دپاره چه شی دوی دپاره مددګاران (٨١) چرے نشی کیدے زردے چه انکار به اوکړی دَبندګئ دَ دوی نه اوشی به دَ دوی په خلاف کښ ضد کۈونکی (٨٢) ایا ته نه پوهیږے چه یقیناً ورږیدو شیطانان په کافرانو باندے چه خوټکوی دوی لره په خوټکولو سره (٨٣) نو تلوار مه کوه په دوی باندے یقینا شمارو مونږ دوی لره شمارل(٨٤) په کومه ورځ چه راجمع به کړو متقیان رحمان ته په حیث د میلمنو (٨٥) او اوبه شړو مجرمان جهنم ته تږی (٨٦)

دے ﴿لَاُوْتَيَنَّ مَالًا وَّ وَلَدًا ۔ اَمِ اتَّخَذَ عِنْدَ الرَّحْمٰنِ عَهْدًا﴾ دَ دے یومطلب دا دے چه دَاللّٰه تعالیٰ دَطرف نه دهٔ سره وعده دَ نجات شویده۔ دویم مقصد داد ے ایا دَ دهٔ عقیده دَتوحید شته دے چه په هغے سره عهد دَجنت دے۔

[٧٩] پدے آیت کښ زجراوتخویف دے۔ لفظ دَ کَلَّا په قرآن کریم کښ درے دیرش کرته راغلے دے او دا اول ځائے دے او دَ دے دوه معنے دی کله په معنیٰ دَحقًّا سره وی اوکله په معنیٰ دَ ردع سره وی اودلته په معنیٰ دَ ردع دے ﴿سَنَكْتُبُ﴾ په دیکښ سین دَپاره دَ تاکید دے او مراد دَ دے نه لیکل دَملائکو دی۔

[٨٠] پدیکښ هم تخویف اخروی دے ﴿مَا يَقُوْلُ﴾ دَ دے نه مراد هغه مال او اولاد دے چه دے دعویٰ کوی دَهغے دَ بقاء۔

[٨١] پدیکښ څلورم زجردے په اِلٰهه نیولوسره دَ دے دپاره چه دوی سره امداد اوکړی ﴿عِزًّا﴾ سبب دَعزت اودَ نصرت په دنیا او اخرت کښ۔

[٨٢] کَلَّا دَپاره دَ ردع دے نومعنیٰ دا شوه چه چرے دَ دوی امداد نشی کولے ﴿سَيَكْفُرُوْنَ بِعِبَادَتِهِمْ﴾ دیکښ دوه توجیه دی اوله توجیه داده چه انکاربه اوکړی دا الٰهه دَ بندګئ دَمشرکانونه اوشی به دوی باندے په ورځ دَقیامت مخالف بیان کوونکی لکه سورة یونس آیت (٢٨) اوسورة قصص آیت:(٦٣) او سورة احقاف:(٦،٥) کښ۔دویمه توجیه دا ده چه انکار به اوکړی دامشرکان دَبندګئ دَ دغه الٰهونه لکه سورة انعام آیت(٢٣)اوسورة غافرآیت(٧٦)کښ اوداآیتونه په باره دَهغه چا کښ دی چه ملائك اوانبیاء اواولیاء ئے دَاللّٰه تعالیٰ سره شریك کړی (سَيَكْفُرُوْنَ) کفرپه معنیٰ لغوی سره دے یعنی انکارکول۔

[٨٣] په دیکښ پنځم زجردے په اتباع دَشیطان سره مطلب دَ ایت دا دے چه اللّٰه تعالیٰ مسلط کړی دی په کافرانو مشرکانو باندے شیطانان انسی اوجنی چه هغوی تیزوی دوی لره په شرك اوګناهونوباندے اوغصّه کوی دوی لره په مقابله دَ مؤحدینوکښ﴿تَؤُزُّهُمْ﴾ تیزوی دوی لره په شرك کولوسره، ګمراه کوی، خوټکوی په شان دَخوټکیدلودَکټوئے ګناه طرف ته ئے راکاږی داټولے معنے دی۔

[٨٤] په دے کښ اولاً تسلی ده په مهلت ورکولوسره اوبیا تخویف دے چه اللّٰه تعالیٰ شماری ساه احستل دَ دے خلقواو دارنګ عملونه دَ دوی۔

[٨٥] پدے آیت کښ بشارت دے او﴿وَفْدًا﴾ نه مراد دا دے چه میلمانه دَاللّٰه تعالیٰ به وی اوسوارهٔ به وی

لَا يَمْلِكُوْنَ الشَّفَاعَةَ اِلَّا مَنِ اتَّخَذَ عِنْدَ الرَّحْمٰنِ عَهْدًا ﴿٨٧﴾ وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحْمٰنُ وَلَدًا ﴿٨٨﴾ لَقَدْ جِئْتُمْ
شَيْـًٔا اِدًّا ﴿٨٩﴾ تَكَادُ السَّمٰوٰتُ يَتَفَطَّرْنَ مِنْهُ وَتَنْشَقُّ الْاَرْضُ وَتَخِرُّ الْجِبَالُ هَدًّا ﴿٩٠﴾ اَنْ دَعَوْا لِلرَّحْمٰنِ وَلَدًا ﴿٩١﴾
وَمَا يَنْۢبَغِيْ لِلرَّحْمٰنِ اَنْ يَّتَّخِذَ وَلَدًا ﴿٩٢﴾ اِنْ كُلُّ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ اِلَّاۤ اٰتِي الرَّحْمٰنِ عَبْدًا ﴿٩٣﴾ لَقَدْ اَحْصٰىهُمْ

وس به نه لری دَسفارش کولو مگر هغه څوك چه اخستے دے په نیز دَ رحمٰن لوظ (۸۷) او دوی وائی نیولے دے رحمان ځان لره ځوئے (۸۸) یقیناً راغلئ تاسو خبرے درنے ته (۸۹) نزدے ده چه اسمانونه اوچوی دَ دے وجے نه او نیمگرے شی زمکه او راپریوځی غرونه دړے وړے(۹۰) دَ دے وجے چه رابلی دوی رحمان لره ولد (۹۱) اونه ده مناسب رحمان لره چه اونیسی ولد (۹۲) نه دی هرهغه څوك چه دی په اسمانونو او زمکه کښے مگر راځی رحمان ته په بندگئ سره (۹۳) یقیناً راګیر کړی دی اللّٰه تعالیٰ دوی (په قدرت او په علم کښے)

په ښائسته سورلو باندے۔

[۸٦] په دے آیت کښ تخویف اخروی دے اودَ وِردًا نه مراد تړی اوپیاده بغیر دَپیزار نه ډلے ډلے۔

[۸۷] په دے ایت کښ رد دے په شفاعت قهری باندے اوپه دے آیت کښ ډیرتوجیهات دی اوله توجیه دا ده چه اختیارنه لری دا مجرمان دَ شفاعت کولوهیڅا لره لیکن هغه څوك چه حاصل کړے دے عهدَ توحید نوهغوی شفاعت کولے شی پدے توجیه کښ ضمیرډلایملکون مجرمانو ته راجع دے اواستثناء منقطع ده۔ دویمه توجیه دا ده چه اختیارنه لری هیڅوك دَ شفاعت کولو بل چاله مگر هغه څوك چه مؤحد وی، پدے توجیه کښ ضمیرډلایملکون عام دے الهؤباطلواومجرمینواو متقینوټولوته ځکه چه محکښ دواړه ذکردی اواستثناء متصل ده۔ اودریمه توجیه دا ده چه اختیار نه لری دا متقیان دَ شفاعت کولو هیچاله مگر هغه چاله چه مؤحد وی، پدے توجیه کښ ضمیرډلایملکون متقیانوته راجع دے۔ اوپه مَن کښ حرف لام پټ دے اوعَهدًا نه مراد په اوله توجیه باندے اذن دے او روستو توجیهاتو باندے مراد توحید دے۔

[۸۸،۸۹،۹۰،۹۱] پدے کښ شپږم زجردے په نسبت کولوډ ولداللّٰه تعالیٰ ته اودَ دے عقید ے ډیرقباحت ئے ذکرکړیدے اول دا ﴿اِدًّا﴾ په معنیٰ دَ ډیرناکاره یا ډیردروند دے دویم دَ دے قول ناکاره اثړیه آسمانونواو زمکواوغرونوباندے دے مراد دَ دے نه فنادَ دے ځیزونواوقیامت قائمیدل دی لیکن فناشوی نه دی ځکه چه سبب دَبقا هغه کلمه دَتوحید ده چه هغه په عالم کښ شته۔ حدیث کښ راغلی دی چه قیامت به نه قائیم کیږی څو پورے چه په زمکه کښ وئیلے کیږی کلمه دَ توحید۔ اوپه ایت کښ اشاره ده چه شرك سبب دَ فساد اودَ تباهئی دے ﴿اَنْ دَعَوْا لِلرَّحْمٰنِ وَلَدًا﴾ دَ دے دوه معنے دی یودا چه دعوا په معنیٰ دَ نسبت کولودے یعنی چه دوی نسبت کوی رحمٰن ته دَ ولد۔ دویمه معنیٰ دا ده چه رامدد کوی ولدچه نسبت ئے کوی اللّٰه تعالیٰ ته۔اوحدیث صحیح کښ راغلی دی چه نسبت دَ ولد اللّٰه تعالیٰ ته داکنځل کول دی هغه ته۔

[۹۲] لفظ دَ ﴿مَايَنْبَغِيْ﴾ په ښکاره ناجائز کښ استعمالیږی لکه چه لفظ دَ يَنْبَغِي په ښکاره لازم کښ استعمالیږی۔

[۹۳] پدے آیت کښ علت دَ مَايَنْبَغِي ذکرکیږی اودے ایت کښ دعویٰ دَ سورة هم ده چه ټول انبیاء

وَعَدَّهُمْ عَدًّا ﴿۹۴﴾ وَكُلُّهُمْ اٰتِيْهِ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فَرْدًا ﴿۹۵﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ سَيَجْعَلُ لَهُمُ الرَّحْمٰنُ وُدًّا ﴿۹۶﴾ فَاِنَّمَا يَسَّرْنٰهُ بِلِسَانِكَ لِتُبَشِّرَ بِهِ الْمُتَّقِيْنَ وَتُنْذِرَ بِهٖ قَوْمًا لُّدًّا ﴿۹۷﴾ وَكَمْ اَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ مِّنْ قَرْنٍ ؕ هَلْ تُحِسُّ مِنْهُمْ مِّنْ اَحَدٍ اَوْ تَسْمَعُ لَهُمْ رِكْزًا ﴿۹۸﴾ ع

النصف ۴۱۴

او شمار کړی دی په شمار سره (۹٤) او دا ټول به راځی اللّٰه تعالیٰ ته په ورځ دَقیامت تش تور یواځے (۹۵) یقیناً هغه کسان چه ایمان ئے راوړے او عمل ئے کړے دے نیك زر ده چه پیدا به کړی دوی لره رحمان مینه (په زړونو دَنیکانو کښے)(۹٦) پس یقیناً اسان کړیدے مونږ دا قرآن په ژبه ستادے دپاره چه زیرے ورکړے په دے سره متقیانوته او یره ورکړے په دے سره قوم جګړمارته (۹۷) او ډیر هلاك کړیدی مونږ دَ دوی نه وړاندے قومونه ایا وینے ته دَ دوی نه څوك یا اورے ته دوی لره کشار (۹۸)

اواولیاء دَاللّٰه تعالیٰ عبدیت کوونکی دی اوعبد خوولد نشی کیدلے ﴿اٰتِیْ﴾ نه مراد په دنیاکښ دی یا په قیامت کښ لیکن اوله توجیه غوره ده۔

[۹٤] دا اشاره ده چه دا ټول دَ اللّٰه تعالیٰ په قدرت اوعلم کښ راګیرډی او دَ دوی په جزئیاتو باندے هم علم لری۔

[۹۵] داهم بیان دَ عجزدَ دوی دے په ورځ قیامت کښ ﴿فَرْدًا﴾ یعنی مال به ورسره نه وی او مددګار به ئے هم نه وی تش توراویواځے به وی۔

[۹٦] په دے آیت کښ بشارت دنیوی دے کله چه مراد دَ وُدًّا نه محبت په زړونودَصالحینوکښ واخستے شی لکه دا حدیث کښ ذکرشوے دے چه اللّٰه تعالیٰ دَچا سره محبت کوی نوجبرائیل ته اووائي دَ دهٗ سره محبت کوه بیاټول اسمان والوته دَهغه دَمحبت اعلان اوکړیشی بیا دَ زمکے والو (صالحینو) په زړونو کښ دَ هغه سره محبت پیداکړیشی اوداحدیث امام بخاری اومسلم اواحمد روایت کړے دے۔ یا دا بشارت اخرویه دے چه مراد دَ وُدًّا نه مقام دَ محبت شی یعنی جنت۔

[۹۷] پدے کښ ترغیب دے قرآن ته دپاره دَ حاصلولو دَ وُداً او ایت متعلق دے دَابتداء دَسورة سره۔ ﴿بِلِسَانِكَ﴾ مراد لغت عربیه دے یانفس ژبه مراد ده چه نبی ﷺ په تلاوت دَ قرآن کښ نه خطاکیدلو ﴿لُدًّا﴾ جمع دَ الدّ ده سخت جګړمار، کوګ دَ حق لارے نه، ډیردروغژن دا ټولے معنے مراد کیدیشی۔

[۹۸] پدے آیت کښ تخویف دنیوی دے په ذکر دَ اقوام مکذّبوسره اجمالاً اوسبب دَ هغے اعراض دے دَ قرآن نه۔

سُوْرَةُ طٰهٰ (٢٠) مَكِّيَّةٌ (٧٥) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ١٣٥ رُكُوْعَاتُهَا ٨

طٰهٰ ﴿١﴾ مَآ اَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْقُرْاٰنَ لِتَشْقٰٓى ﴿٢﴾ اِلَّا تَذْكِرَةً لِّمَنْ يَّخْشٰى ﴿٣﴾ تَنْزِيْلًا مِّمَّنْ خَلَقَ الْاَرْضَ وَالسَّمٰوٰتِ الْعُلٰى ﴿٤﴾ اَلرَّحْمٰنُ عَلَى الْعَرْشِ اسْتَوٰى ﴿٥﴾ لَهٗ مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَمَا فِى الْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا وَمَا تَحْتَ الثَّرٰى ﴿٦﴾ وَاِنْ

طٰهٰ (١) نه دے نازل کړے مونږ په تاباندے قرآن چه په تکلیف شے (٢) مګر دَ دے دپاره چه یاد داشت شی هغه چا لره چه ویره کوی (٣) نازلیدل دَهغه ذات دَ طرف نه چه پیدا کړے ده زمکه او اسمانونه اوچت (٤) عام رحمتونو والا دے دَ عرش دپاسه برابر دے (٥) خاص دَهغه اختیار کښ دی هغه څیزونه چه اسمانونو کښ دی اوهغه چه زمکه کښ دی اوهغه چه دَ دے دواړو په مینځ کښ دی اوهغه چه لاندے دَلوندو خټونه دی (٦) اوکه

سورة طٰهٰ

دے ته سورة کلیم هم وائی۔

ربط: دَ دے دَ تیرشوی سورة سره دا دے، چه په هغه سورة کښ دَ توحید اثبات اوشوپه جواب دَ شبهاتوسره نواوس په دے سورة کښ تشجیع اوترغیب ورکوی په دعوت اوتبلیغ دَ دغه مسئلے سره اودارنګ دَ سورة مریم اخری ایت کښ هلاکت دَ تیرشوی منکر قومونواجمالاً ذکرشوے وؤ۔ نوپه دے سورة کښ دَ هغے نمونه ذکرکوی په واقعه دَ فرعونیانوسره۔

دعویٰ دَ دے سورة: تشجیع ده په دعوت دَتوحید باندے سره دَ اثبات دَتوحید نه، اياتونه دَ تشجیع شپږدی، او واقعه دَ موسیٰ علیه السلام اودَساحرانوحال پس دَ ایمان راوړلونه دَ پاره دَ تشجیع ده۔

خلاصه دَ سورة: په دے سورة کښ دوه حِصّے دی اوله حِصّه تر(٩٨) پورے ده۔ په دے کښ تمهید دے تر(٨) پورے په هغے کښ تشجیع ده په دعوت باندے په (٣،٢)کښ۔ اوپنځه عقلی دلیلونه دی سره دَ دعوے دَ توحید نه۔ او واقعه دَ موسیٰ علیه السلام ده دَپاره دَ تشجیع۔

تفسیر

[١] دا ایت دَ مقطعاتونه دے۔ دَهغے بحث تیرشوے دے دلته روایت دَابن جبیر دادے چه دا په معنیٰ دَیارجل سره دے (اے بهادر سړے یه) اوپه لغت دَ قریشو کښ په دے معنیٰ سره هم استعمال شوے دے۔

[٣،٢] دے دواړو اياتونوکښ شجاعت ورکول اوترغیب دے په تبلیغ دَقرآن کریم یعنی دَقرآن مقصد دَانزال تذکره او نصیحت ورکول دی مقصد ئے مشقت اوتکلیف نه دے اونه بدبخت کیدل ﴿لِتَشْقٰى﴾ دَ شَقَیَ نه ماخوذ دے یا دَ شقاوت نه ﴿لِمَنْ يَّخْشٰى﴾ ئے دَ دے وجے نه ذکرکړلو چه فائده احسنتل دَ قرآن نه په خشیت اوپه انابت باندے موقوف ده۔

[٤] په دے آیت کښ بیان دَ عظمت دَکتاب اللّٰه تعالیٰ دے۔ اودلیل عقلی اول دے په توحید باندے په ذکردَ خالِقیت دَ اللّٰه تعالیٰ سره۔

[٥] دا دویم دلیل دے، په ذکردَ صفت دَ رحمانیت دَ اللّٰه تعالیٰ اوفوقیت په عرش باندے، اودَ استویٰ

تَجْهَرْ بِالْقَوْلِ فَاِنَّهٗ يَعْلَمُ السِّرَّ وَاَخْفَى ۝٧ اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ؕ لَهُ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى ۝٨ وَهَلْ اَتٰىكَ حَدِيْثُ
مُوْسٰى ۝٩ اِذْ رَاَ نَارًا فَقَالَ لِاَهْلِهِ امْكُثُوْٓا اِنِّيْٓ اٰنَسْتُ نَارًا لَّعَلِّيْٓ اٰتِيْكُمْ مِّنْهَا بِقَبَسٍ اَوْ اَجِدُ عَلَى النَّارِ هُدًى ۝١٠

ته ښکاره وینا کوے نو یقیناً اللّٰه تعالیٰ پوهیږی په پټه اوپه ډیر پټه (۷) اللّٰه دے نیشته حق دار دَ بندګئ سیوا دَ هغه نه خاص هغه لره دی نومونه خائسته (۸) او ایا (یقیناً) راغلے دے تاته خبر دَ موسیٰ(علیه السلام)(۹) کله چه اولیدلو اور نووے وئیل کور والوته حصار شئ یقیناً مالیدلے دے اُور کیدے شی چه راوړم تاسو ته دَهغے نه لیت (شغله) یابه اوموم دَ اور په خوا کښ لار خودونکے(۱۰)

اوعرش معنیٰ ښکاره ده چه دَعرش دپاسه دے اوعرش دَ اسمانونو دپاسه دے هاں دَهغے کیفیت دَ مخلوق سره هیڅ مشابهت نه لری اودا عقیده دَ ټولو سلف صالحینواوائمه مجتهدینوده۔ اودَ امام ابوحنیفهؒ نه روایت دے چه چا داسے اُوئیل چه ځه نه پوهیږم چه رب ځما په اسمان کښ دے یا په زمکه کښ دے نوهغه سړی کفراوکړوځکه چه اللّٰه تعالیٰ فرمائی ﴿اَلرَّحْمٰنُ عَلَى الْعَرْشِ اسْتَوٰى﴾ دا په فقه اکبراوشرح عقیده طحاویه کښ ذکرشویدی، دَامام مالکؒ نه نقل دے هغه فرمائیلی دی چه استویٰ مجهول نه ده (یعنی معنیٰ ئے معلومه ده) اوکیفیت دَاستویٰ معقول نه دے اوایمان پدے باندے فرض دے اوبحث تپوسونه دَ دے نه بدعت دے۔

[٦] دا دریم دلیل دے په توحید باندے۔ مراد دا دے چه تصرف دَټول عالم اللّٰه تعالیٰ لره خاص دے۔ ﴿الثَّرٰى﴾ لوندے خټے دی یعنی دَ اووے زمکے دَ لاندے چه ځه دی نواللّٰه تعالیٰ په هغے عالم دے، اوپه هغے کښ تصرف کوؤنکے دے۔

[٧] دا ځلورم دلیل دے اومراد ترینه احاطه دَعلم دَاللّٰه تعالیٰ ده په هرپټ اوښکاره باندے ﴿السِّرَّ﴾ نه مرادپټه خبره کول دی دَیو راز دارسره او ﴿اَخْفٰى﴾ نه مراد دا دے چه په زړه کښ ئے پټ اوساتی۔

[٨] دا دعویٰ دَ توحید ده او ورسره پنځم دلیل دے ﴿اَلْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى﴾ هغه دی چه اللّٰه تعالیٰ ځان دپاره په منزّلو کتابونوخپلوکښ بیان کړی دی یا انبیاؤعلیهم السلام دَ اللّٰه تعالیٰ دَپاره ثابت کړی وی۔ اوحُسنیٰ ځکه دی چه په کمال دلالت کوی اوشریك پکښ نشی کیدلے اوقدیم اوهمیشه دی اوپه نقل دَ وحی باندے بنادی اواللّٰه تعالیٰ په هغے کښ مخلوق ته محتاج نه دے۔

[٩] دَ دے ایت نه تفصیل دَ قِصّے دَ موسیٰ(علیه السلام) شروع کیږی۔ اولوئے مقصد پکښ شجاعت اوبهادری ورکول دی په تیرولو دَ مصیبتونودَ دعوت سره پشان دَموسیٰ(علیه السلام) اودَساحرانوروستودَ ایمان راوړلونه اوپه دے واقعه دَ دے سورة کښ شپږ مقامات دی اول مقام دَدے ایت نه شروع دے تر(٢٤) پورے په دیکښ ذکر دے دَ حال دَ واپسئے دَ موسیٰ(علیه السلام) دَ مدین نه مصرته اوسپارل دَ رسالت دی هغه ته په توحید سره او دوه حکمونه دپاره دَ تکمیل دَ توحید اواخبار دَ قیامت دے اوتثبّت اوتشجیع ده اوذکردَ دوو معجزاتودَ موسیٰ(علیه السلام) دے ﴿وَهَلْ اَتٰىكَ﴾ په دے سره مقصد تنبیه ده۔

[١٠] اُورئیے ورته په اعتبارد ګمان دَموسیٰ(علیه السلام) اوئے اودَ سورة نمل او قصص نه معلومیږی چه مقصد ئے دَ قبس نه ګرموالے حاصلول وؤ اولار ترینه ورکه شویوه دَ دے وجے دَ هادی ذکرئے اوکړو۔

فَلَمَّآ اَتٰىهَا نُوْدِيَ يٰمُوْسٰى ﴿١١﴾ اِنِّيْٓ اَنَا رَبُّكَ فَاخْلَعْ نَعْلَيْكَ ۚ اِنَّكَ بِالْوَادِ الْمُقَدَّسِ طُوًى ﴿١٢﴾ وَاَنَا اخْتَرْتُكَ
فَاسْتَمِعْ لِمَا يُوْحٰى ﴿١٣﴾ اِنَّنِيْٓ اَنَا اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا فَاعْبُدْنِيْ ۙ وَاَقِمِ الصَّلٰوةَ لِذِكْرِيْ ﴿١٤﴾ اِنَّ السَّاعَةَ اٰتِيَةٌ
اَكَادُ اُخْفِيْهَا لِتُجْزٰى كُلُّ نَفْسٍ بِمَا تَسْعٰى ﴿١٥﴾ فَلَا يَصُدَّنَّكَ عَنْهَا مَنْ لَّا يُؤْمِنُ بِهَا وَاتَّبَعَ هَوٰىهُ

پس هر کله چه راغے هغه ته اواز ورکړے شو اے موسیٰ (۱۱) یقیناً ځه رب ستایم نو اوباسه کیړئ خپلے یقیناً ته په لمن دَ غرکښ ئے چه پاکه ده نوم ئے طوٰی دے (۱۲) او ماته غوره کړے ئے نو غوږ کیده هغے ته چه تاته ئے وحی کیدے شی (۱۳) یقیناً ځه الله یم نیشته حق دار دَ بندگئ سیوا زمانه نو بندگی خاص کوه ما لره او پابندی دَ مانځه کوه دپاره دَ یا داشت زما (۱٤) یقیناً قیامت راتلونکے دے غواړم چه پټ ئے اوساتم د پاره دَ دے چه بدله ورکړے شی هرنفس ته دَهغه دَعمل چه ده کړے وی (۱۵) نو وادے نه ړوی تالره دَ دے نه هغه ځوك چه ایمان نه راوړی په دے باندے او تابع وی دَ خواهش خپل

[۱۱] دَ دے نه مراد دا دے چه دَ اونے دَ طرف نه اواز اوکړیشو دا سے په سورة قصص کښ هم راغلی دی۔

[۱۲]دا تفصیل دَ نداء دے په دے کښ اول تعین دَمنادی دے اوبیان دَ آدب دے چه خپلے کیړئے اوباسه که په هغے کیړو کښ نجاست وی نو ویستل ئے ضروری دی اوکه په هغے کښ نجاست نه وی نو ویستل ئے ادب دے ﴿طُوًى﴾ دا نوم دے دَ هغه پاك میدان چه په هغے کښ برکات راغونډ کړے شوی دی۔

[۱۳] په دے ایت کښ ذکردَ رسالت دے دَ موسیٰ علیه السلام اوبیا حکم دے په اوریدلودَ وحی سره۔ مراد دَ اخترتك نه غوره کول او منتخب کول دی دَپاره دَ رسالت ۔اشاره ده چه رسول دَ نور مخلوق نه غوره وی۔ ﴿فَاسْتَمِعْ﴾ اشاره ده چه دَ رسول اوله ذمه داری دَ الله تعالیٰ وحی ته په پوره توجه سره غوږ کیخودل دی۔

[۱٤] په دے ایت کښ ئے دَ وحی درے اجزاء ذکرکړی دی۔ اول جزء مسئله دَ توحید، دویم جزء امرکول په عبادت سره دپاره دَعمل دَ توحید، اودریم جزء حکم کول دی خاص په مانځه سره یعنی توحید دَ الوهیت اوتوحید دَ عبودیت اوتوحید دَ حکم﴿اَقِمِ الصَّلٰوةَ﴾په دے کښ ذکردَادب دے دَپاره دَدعوت کوؤنکی دَحق چه دَمونځ پابندی اوذکرالهی کښ مشغولیت دے او﴿لِذِكْرِيْ﴾ کښ ډیرمعنے دی اول دا چه دَ ذکرنه مراد توحید دے یعنی مونځ کوه دَپاره دَمضبوطیدلوپه توحید باندے، دویمه معنیٰ یا دول دَ الله تعالیٰ په مانځه کښ اودریمه معنیٰ دا ده چه کله مونځ درنه هیرشی یا اوده پاتے شے دَمانځه نه نوکله چه رایادشی درته مونځ نوپه هغه وخت کښ اوکړه۔ اوحدیث صحیح کښ هم دامضمون دے۔ نوپه دے کښ دلیل دے چه ځوك قضیٰ دَمونځونو روستوکوی دَ رمضان اخری جمعے ته اوهغے ته قضائے عمری وائي نو دا خلاف کول دی دَ دے ایت اودَ صحیح حدیث نه۔

[۱۵] په دے ایت کښ دَ وحی ځلورم جزء دے چه هغه راتلل دَ قیامت دی ځکه چه توحید اوایمان په اخرت دواړه اصل دَ اصول دَ ایمان دی ﴿اَكَادُ اُخْفِيْهَا﴾ دَ دے دوه معنے دی اوله معنیٰ داچه نزدے ده چه ښکاره به کړم قیامت لره، دویمه معنیٰ دا ده چه غواړم ځه پټ ساتل دَعلم دَ قیامت دَمخلوق نه ځکه چه اخفاء په لغت دَعربو کښ دَ اضدادونه ده یعنی ښکاره والے اوپټ والے دواړو دپاره استعمالیږی ﴿لِتُجْزٰى﴾ په اوله معنیٰ سره دا تعلق لری دَ اُخفِيهَا سره اوپه دویمه معنیٰ کښ تعلق لری اٰتِيَةٌ سره۔

فَتَرْدٰى ﴿۱۶﴾ وَمَا تِلْكَ بِيَمِيْنِكَ يٰمُوْسٰى ﴿۱۷﴾ قَالَ هِيَ عَصَايَ اَتَوَكَّؤُا عَلَيْهَا وَاَهُشُّ بِهَا عَلٰى غَنَمِيْ وَلِيَ فِيْهَا مَاٰرِبُ
اُخْرٰى ﴿۱۸﴾ قَالَ اَلْقِهَا يٰمُوْسٰى ﴿۱۹﴾ فَاَلْقٰىهَا فَاِذَا هِيَ حَيَّةٌ تَسْعٰى ﴿۲۰﴾ قَالَ خُذْهَا وَلَا تَخَفْ ۫ سَنُعِيْدُهَا سِيْرَتَهَا
الْاُوْلٰى ﴿۲۱﴾ وَاضْمُمْ يَدَكَ اِلٰى جَنَاحِكَ تَخْرُجْ بَيْضَآءَ مِنْ غَيْرِ سُوْٓءٍ اٰيَةً اُخْرٰى ﴿۲۲﴾ لِنُرِيَكَ مِنْ اٰيٰتِنَا الْكُبْرَى ﴿۲۳﴾

نو هلاك به شي (۱۶) او څه دی ستا په ځی لاس کښ اے موسیٰ (۱۷) اُوئیل هغه دا همسا زما ده تکیه لګوم په دے باندے او راځنډوهم په دے سره پانړے په خپلو ګډو بیزو باندے او مالره په دے کښ فائدے نورے دی (۱۸) اُوئیل اللّٰه تعالیٰ اوغورځوه دا اے موسیٰ (۱۹) پس اُوغورځوله هغه نو دغه وخت هغه مار شو منډے ئے وهلے (۲۰) اوئیل اللّٰه تعالیٰ اونیسه دا اومه پریږه زردے اوبه ګرځوو دا حالت دَ دے مخکښنی ته (۲۱) او جوخت کړه لاس خپل دَخپل ترخ سره را اوبه اوځی سپین بغیر دَ نقصان نه نښه بله ده (۲۲) دپاره دَ دے چه اوښایو مونږ تاته دَ نخو زمونږه لویو نه (۲۳)

[۱۶] په دے ایت کښ تشجیع ده موسیٰ علیه السلام ته په مضبوط کیدلوسره په دغه وحی باندے اوپه بیان کولودَ هغے سره او داسے په سورة قصص (۸۷) کښ هم ذکردی اودا دوه صفتونه (۱) عدم ایمان په اخرت (۲) اواتباع دَخواهش بنیاد دے دَ ټولو خبائثو دپاره۔ اوپه دے کښ اشاره ده فرعون ته لیکن صفات ئے ذکرکړل دپاره دَ دے چه عام شي ﴿فَتَرْدٰى﴾ په اصل کښ دَ بره نه ځکته راغورزیدلوته وئیلے شي مراد ترینه هلاکت دے اواشاره ده چه دعوت دَحق پریخودل سبب دَ ذلت دے په دنیاکښ اوسبب دَ جهنم دے په عقبیٰ کښ۔

[۱۷] په دے ایت کښ تمهید دے دپاره دَ معجزے ورکولوموسیٰ علیه السلام ته اومقصود په دے تپوس سره بیانول دَ موسیٰ علیه السلام دی فائدودَ همساء لره لیکن دَ مارجوړیدلو فائده ورته معلومه نه وه نو دلیل دے چه دا معجزه ده او حرف دَ ما دپاره دَ تپوس دَ شرح دَ فوائدو دے ﴿بِيَمِيْنِكَ﴾ دا دلیل دے چه همساء استعمالول په ځی لاس سره دَ پیغمبرانو سنت دے۔

[۱۸] په دے جواب کښ ځلور جملے دی دَ اولے جملے مطلب دا دے چه دا همساء پردئے نه ده بلکه ځما ده۔ په دویمه او دریمه جمله کښ ذکردَ دوؤ فائدو دے اوله فائده دَ ځان سره تعلق لری۔ او دویمه فائده دَ څارؤ سره تعلق لری اوپه څلورمه جمله کښ اشاره ده ډیرو فائدودَ همساء ته اوپه دے کښ ترغیب دے چه استعمال کول دَ همساء ښه کاردے اوسنت دے۔

[۱۹] په دیکښ مقصد بله فائده ښکاره کول دَ همساء دی په طریقه دَ معجزے سره اودا فائده دَ موسیٰ علیه السلام په علم کښ نه وه نومعجزه ده۔

[۲۰] ﴿حَيَّةٌ﴾ اسم جنس دے مطلق مارته وائي که غټ وی اوکه نرے وی نوسورة نمل اوقصص کښ فرمائیلی دی ﴿كَاَنَّهَا جَآنٌّ﴾ یعنی دَ نری مار پشان وو اوسورة اعراف اوشعراء کښ ذکر دے ﴿ثُعْبَانٌ مُّبِيْنٌ﴾ ښامارښکاره وؤ نولفظ دَ حَيَّة دواړوته شامل دے دلته مقصد انقلاب دَحقیقت دے چه دَلرکی نه مار جوړیږی اوپدے باندے لفظ دَحَيَّة پوره دلالت کوی۔

[۲۱] معلومه شوه چه دَ ظاهری اسبابونه طبعی ویره کول دَکمال سره منافات نه لری۔ اودَ دے ایاتونونه معلومه شوه چه کومه معجزه وه یعنی دَ همساء نه مارجوړیدل اودوباره همساء ته واپس کیدل دا دَ

اِذْهَبْ اِلٰى فِرْعَوْنَ اِنَّهٗ طَغٰى ﴿٢٤﴾ قَالَ رَبِّ اشْرَحْ لِيْ صَدْرِيْ ﴿٢٥﴾ وَيَسِّرْ لِيْٓ اَمْرِيْ ﴿٢٦﴾ وَاحْلُلْ عُقْدَةً مِّنْ
لِّسَانِيْ ﴿٢٧﴾ يَفْقَهُوْا قَوْلِيْ ﴿٢٨﴾ وَاجْعَلْ لِّيْ وَزِيْرًا مِّنْ اَهْلِيْ ﴿٢٩﴾ هٰرُوْنَ اَخِي ﴿٣٠﴾ اشْدُدْ بِهٖٓ اَزْرِيْ ﴿٣١﴾ وَاَشْرِكْهُ فِيْٓ

لاړشه فرعون ته یقیناً دهٔ سرکشی کړے ده (۲٤) اُوئیل موسیٰ(علیه السلام) اے ربه پرانیزے ماله سینه زما (۲۵) او اسان کړے ماته کار زما (۲۷) او پرانیزے غوټه دَ ژبے زما (۲۷) چه پوهه شی دوی په وینا زما (۲۸) او جوړ کړه مالړه ملګرے دَ کور نئے زمانه (۲۹) هارون ورور زما (۳۰) کلکه کړے په دهٔ سره ملا زما (۳۱) او برخه ور کړے دهٔ لره په

موسیٰ(علیه السلام) اختیارکښ نوڅله دے وجے نه هغه ته ئے نسبت اونکړو۔ اوهمساء غورځول اوبیا رانیول اختیاری کارونه دی معجزات نه دی نودَهغے نسبت ئے موسیٰ(علیه السلام) ته اوکړو۔

[۲۲] په دے ایت کښ دویمه معجزه ذکرکړے شوے ده ﴿جَنَاحِكَ﴾ جناح په معنیٰ دَ مټ دے بیا مراد دَ دے نه اړخ دے یعنی دَ مټ دَ لاندے ﴿سُوْٓءٍ﴾ په معنیٰ دَ داسے مرض اونقصان سره چه انسان لره خفه کوی په اوله معجزه کښ غلبے دَ حجت دَموسیٰ(علیه السلام) ته اشاره ده او په دویمه کښ رنړا او وضاحت دَ دلیل ته اشاره ده۔

[۲۳] مراد دَ دے نه هلاکت دَ فرعون او دَ قوم دَ هغه دے په سبب دَ انکار کولو دَ معجزاتونه ځکه دا دَ قدرت او توحید دَ اللّٰه تعالیٰ ښکاره دلیل دے۔

[۲٤] دے ایت کښ فرعون ئے خاص کړو په ذکر کولو سره اګر چه رسالت دَ موسیٰ(علیه السلام) دَ هغه قوم ته هم عام وو۔ دا دَ دے وجے نه چه فرعون پابندی لګولے وه په هر دعوت کوؤنکی دَ حق باندے او قوم ئے منع کړے وؤ دَ حق او ریدلونه او دا دَ دهٔ طغیان وؤ ﴿اِنَّهٗ طَغٰى﴾ دا علت دے دپاره دَ رسول لیګلو خصوصاً۔

[۲۵] دَ دے ایت نه دویم مقام شروع کیږی تر ایت (٤۳) پورے په دیکښ دُعا دَموسیٰ(علیه السلام) ده په شپږو خبروسره اوقبولیت دَ هغے دُعاګانودے دَ اللّٰه تعالیٰ دَطرف نه په طریقه دَ احسان سره۔ اوذکرَ احسانونو مخکښنو دے اجمالاً بیاحکم کول دی موسیٰ(علیه السلام) ته چه لاړشه فرعون ته سره دَبهادرئ نه۔

فائده: دَ سینے دَ پرانستلونه مراد توفیق دَصبراودَ استقامت دے په وخت دَ مصیبتونودَ رسالت کښ۔ او رفع دَ شکونواوشبهاتواواشاره ده رفع دَ موانعو دَ دعوت ته۔

[۲٦] په دے ایت کښ دویمه دُعا ده اومراد دَ دے نه اسباب ظاهری اوباطنی حاصلول دی چه په هغے سره کارَدَ رسالت اسانیږی۔

[۲۸،۲۷] په دے ایاتونو کښ دریمه دُعا ذکرشوے ده اودَ هغے فائده ذکر شویده اودَ ژبے دَ غوټے نه مراد ظاهری نقصان وو دَ هغه په ژبه کښ یا مراد دے نه بندیدل دَ ژبے دی دَ وجے دَ هیبت نه اودا دَ دعوت کؤنکی دپاره ضروری دی۔

[۳۰،۲۹] په دے ایتونو کښ څلورمه دعا ذکرده په باره دَ وروردَ هغه کښ اودا نهایت احسان دے دَیو ورور دَبل وروړسره اومراد دَ وزیراً نه شریك دے دَ نبوت په بوج کښ یعنی بوج دَ رسالت ګران دے په دے کښ قریبی مددګارپکار دے۔ مِنْ اَهْلِيْ او اَخِيْ کښ اشاره ده داسے ملګرے پکاردے چه په هغه باندے اعتماد کیدیشی۔

اَمْرِیْ ﴿٣٢﴾ كَیْ نُسَبِّحَكَ كَثِیْرًا ﴿٣٣﴾ وَّنَذْكُرَكَ كَثِیْرًا ﴿٣٤﴾ اِنَّكَ كُنْتَ بِنَا بَصِیْرًا ﴿٣٥﴾ قَالَ قَدْ اُوْتِیْتَ سُؤْلَكَ
یٰمُوْسٰی ﴿٣٦﴾ وَلَقَدْ مَنَنَّا عَلَیْكَ مَرَّةً اُخْرٰی ﴿٣٧﴾ اِذْ اَوْحَیْنَآ اِلٰٓی اُمِّكَ مَا یُوْحٰٓی ﴿٣٨﴾ اَنِ اقْذِفِیْهِ فِی التَّابُوْتِ فَاقْذِفِیْهِ
فِی الْیَمِّ فَلْیُلْقِهِ الْیَمُّ بِالسَّاحِلِ یَاْخُذْهُ عَدُوٌّ لِّیْ وَعَدُوٌّ لَّهٗ ؕ وَاَلْقَیْتُ عَلَیْكَ مَحَبَّةً مِّنِّیْ ۚ وَلِتُصْنَعَ
عَلٰی عَیْنِیْ ﴿٣٩﴾ اِذْ تَمْشِیْٓ اُخْتُكَ فَتَقُوْلُ هَلْ اَدُلُّكُمْ عَلٰی مَنْ یَّكْفُلُهٗ ؕ فَرَجَعْنٰكَ اِلٰٓی اُمِّكَ كَیْ تَقَرَّ عَیْنُهَا وَلَا
تَحْزَنَ ؕ وَقَتَلْتَ نَفْسًا فَنَجَّیْنٰكَ مِنَ الْغَمِّ وَفَتَنّٰكَ فُتُوْنًا ۫ فَلَبِثْتَ سِنِیْنَ فِیْٓ اَهْلِ مَدْیَنَ ۙ ثُمَّ جِئْتَ
عَلٰی قَدَرٍ یّٰمُوْسٰی ﴿٤٠﴾ وَاصْطَنَعْتُكَ لِنَفْسِیْ ﴿٤١﴾ اِذْهَبْ اَنْتَ وَاَخُوْكَ بِاٰیٰتِیْ وَلَا تَنِیَا فِیْ ذِكْرِیْ ﴿٤٢﴾ اِذْهَبَآ

وقف لازم

کار زما کښ (۳۲) دے دپاره چه ستا تسبیح وایو ډیره(۳۳) او یاد ډوتاره ډیر(۳٤) یقیناً ته مونږ لره وینے (۳۵) اُوئیل اللّٰه تعالیٰ درکړے شو تاته غوختلے شوی ځیزونه اے موسیٰ (۳٦) او یقیناً احسان کړے دے مونږ په تاباندے بل ځل (۳۷) کله چه خبر ورکړو مونږه ستا مورته هغه چه خبر ورکیدے شو(۳۸) چه واچوئ دهٔ لره په صندوق کښ بیا واچوه صندوق په دریاب کښ نو اوبه غورځوی دهٔ لره دریاب په غاړه باندے اوبه نیسی دهٔ لره دُشمن زما او دشمن دَ دهٔ او واچوله ما په تا باندے مینه دَ خلقو دَطرف زمانه او دپاره دَ دے چه پالنه اوکړے شی ستا په سترګو زما باندے (۳۹) کله چه روانه وه ستا خور نو وے وئیل ایا اوښایم تاسو ته هغه څوك چه دَ دهٔ پالنه به کوی نو واپس اوګرځولے مونږ ته ستامورته دے دپاره چه یخے شی سترګے دَ هغے اونه خفه کیږی او اُوژلوتا یوتن پس بچ کړے مونږ ته دَغم نه (بدله اخستلونه) او ازمیښتونه راوستل مونږ په تا باندے ډیر ازمیښتونه بیا حصار شوے څوکاله په مدین والوکښ بیا راغلے ته په وخت مقرر باندے اے موسیٰ (٤۰) او غوره کړے ئے ماته دپاره دَ ځان ځپل (٤۱) لاړشه ته او ستا ورور په نخو زما سره او ناراستی مکوئ په بیان دَ توحید زما کښ(٤۲) لاړشئ دواړه

[۳۲،۳۱] دا پنځمه اوشپږمه دُعا ده پدیکښ مقصد دَ تخصیص دَ ورور دے په دے دُعا سره ځکه چه ملامضبوتیږی په ملګرتیادَ رورسره ﴿وَاَشْرِكْهُ﴾ په دیکښ تصریح ده چه مراد دَ وزارت نه هسے ملګرتیانه ده بلکه مراد ترینه پیغمبری ده۔ اودا ایت دلیل دے په دے خبره چه نبوت ورکول اللّٰه تعالیٰ نه سیوا دَ بل چا اختیار کښ نیشته دے۔

[۳٤،۳۳] په دے ایتونو کښ دَملګرتیا دَ رسالت فائده بیانوی۔ دَ تسبیح نه مراد رد دے په شرك باندے اودَ ذکرنه مراد دعوت دَ توحید دے۔

[۳۵] په دے ایت کښ ذکردَیوصفت دَ اللّٰه تعالیٰ دے دَپاره دَ وسیلے دَ دُعا۔

[۳٦]په دے ایت کښ ئے قبولیت دَدُعاګانوذکرکړے دے سؤل په معنیٰ دَمسئول سره دے ټول مسئولات مخکښی مراد دی۔

[۳۷] په دے کښ اشاره ده چه قبولیت دَ دُعا احسان دے دَ طرف دَ اللّٰه تعالیٰ نه یعنی اللّٰه دَ چانه مجبوره نه دے۔

[۳۸ نه تر ٤۰] پورے په دے کښ بیان دَ احسان رومبنی دے په نجات دَ موسیٰ علیه السلام سره دَ قتل نه اوپه تربیت دَ هغه په غیږ دَ مورکښ اونجات دَغم دَقتل کولودَ قبطی نه۔ اوډیرو مصیبتونو او امتحانونو کښ

اِلٰى فِرْعَوْنَ اِنَّهٗ طَغٰى ﴿٤٣﴾ فَقُوْلَا لَهٗ قَوْلًا لَّيِّنًا لَّعَلَّهٗ يَتَذَكَّرُ اَوْ يَخْشٰى ﴿٤٤﴾ قَالَا رَبَّنَآ اِنَّنَا نَخَافُ اَنْ يَّفْرُطَ

فرعون ته یقیناً هغه سرکشی کړے ده (٤٣) نو اُوائیے هغه ته وینا په نرمئ سره کیدے شی چه نصیحت قبول کړی یا اُویریږی (٤٤) اُوئیل دواړو اے ربه زمونږه یقیناً یریږو مونږ چه زیاتے به اوکړی

مبتلا کیدل۔ اوپه مدین کښ دَامن ژوند تیرول اودَ دے نعمتونوتفصیل په سورة قصص کښ دَ (٧) نه تر (٢٨) پورے دے۔ اومراد دَ وحی نه په (٣٨) کښ الهام دے په واسطه دَ ملك (فرښتے) سره اوداکرامت دَ اولیاؤ دے ﴿اَلْيَمِّ﴾ دریائے نیل مراد دے چه دَمصریه مینځ کښ بهیدلے وؤ۔ اومراد دَ مَحَبَّةً نه په ایت (٣٩) کښ داسے محبت دے چه چاته موسیٰ علیه السلام لیدلونومینه به ئے ورسره پیداکیدله اوخاص طور باندے مینه دَ ښځے دَفرعون ډیره وه اوهغه سبب دَ تربیت دَ هغه شو۔ اوعَیْنِی دَصفاتودَ اللّٰه تعالیٰ نه دے چه معنیٰ دَ هغے معلومه ده سترکه اوکیفیت دَ هغے معلوم نه دے۔ اوتشبیه دَمخلوق سره نه ده جائزاوتاویل پکښ هم نه دے جائز۔ اومِنَ الْغَمِّ په (٤٠) کښ دلیل دے چه په قتل دَ قبطی کښ ګناه نه وؤ صرف غم او ویره وه دَ فرعونیانونه اودَفَتَنّٰكَ، نه مراد قسما قسم تکلیفونه اومصیبتونه دی په موسیٰ علیه السلام باندے دَوخت دَولادت نه تروخت دَنبوت پورے اوتفسیر ابن کثیرکښ حدیث الفتون ذکرکړے دے ﴿سِنِيْنَ﴾ مراد ترینه لس کلونه چه په سورة قصص کښ هغے ته الاجل وئیلی دی۔ او ﴿قَدَرٍ﴾ نه مراد ځلویښت کاله دی چه هغه تقدیر دے دَ اللّٰه تعالیٰ دَ پاره دَنبوت دَاکثرو انبیاؤعلیهم السلام یامراد دَ قدرٍ نه هغه نیته ده چه موسیٰ علیه السلام دَ شعیب علیه السلام سره مقررکړے وه۔

[٤١] مراد دَ دے نه دَ نبوت او رسالت دَپاره غوره کول دی۔ اودا دلیل دے چه نفس هم دَ اللّٰه تعالیٰ دَ صفاتونه دے۔ اول صرف منتخب کول وؤ دَ دے وجے نه اخترتك ئیے وئیلے وؤ۔ بیا په کار کښ لګول دی نو دلته ئے وَاصْطَنَعْتُكَ اُوئیل ۔ ځکه چه اصطناع وئیلے شی دَ یو کار دَ پاره تیارول اوپه کارکښ لګول۔

[٤٢] روستو دَ اجابت دَ دُعاګانونه بیا امر دے موسیٰ علیه السلام ته سره دَ ورور دَ هغه نه یعنی ورور ته ئے نبوت ورکړلے شو لیکن هغه دغه وخت حاضر نه دے ځکه ئے غائب ذکرکړو۔ اوپه ایت کښ تشجیع ده موسیٰ علیه السلام او ورور دَهغه ته چه دَ مداهنت نه ځان بچ اوساتئ۔

[٤٣] دَ دے ایت نه دریم مقام شروع کیږی تر(٥٥) پورے په دے کښ خطاب دے موسیٰ اوهارون علیهم السلام ته اوطریقه دَ دعوت په (٤٣، ٤٤، ٤٧، ٤٨) کښ اوتسلی ده دواړوته په (٤٥) او(٤٦) کښ اوجواب دَ دوو سوالونودَ فرعون دے دَ (٤٩) نه تر(٥٢) پورے بیا ځلور عقلی دلیلونه دی دَ (٥٢) نه تر(٥٥) پورے۔ په دے (٤٣) کښ دواړو ته خطاب ځکه اوشوچه موسیٰ علیه السلام مصرته راغے او دواړه رونړه یوځائے شول او هارون علیه السلام ته هم وحی شروع شوه۔

[٤٤] په دے ایت کښ بیان دَطریقے دَ دعوت دے چه نرمه لهجه دے وی او دعوت دے وی په دلیلونو سره او وعظ او نصیحت سره ﴿لَيِّنًا﴾ نه مراد دا دے چه لهجه اوطریقه نرمه وی اوخبره په دلیلونوسره پخه وی دَ دے نه دَ مداهنت کوؤنکو دپاره استدلال صحیح نه دے ﴿لَعَلَّهٗ﴾ په معنیٰ دَ امید دے یعنی تاسوچه دعوت کوئے نوامید ساتئی چه فرعون به ایمان راوړی په سبب دَ تَذکریا په سبب دَ خشیت سره۔ اُمید ئے

عَلَيۡنَاۤ اَوۡ اَنۡ يَّطۡغٰى ﴿٤٥﴾ قَالَ لَا تَخَافَاۤ اِنَّنِىۡ مَعَكُمَاۤ اَسۡمَعُ وَاَرٰى ﴿٤٦﴾ فَاۡتِيٰهُ فَقُوۡلَاۤ اِنَّا رَسُوۡلَا رَبِّكَ فَاَرۡسِلۡ مَعَنَا
بَنِىۡۤ اِسۡرَآءِيۡلَ ۬ؕ وَلَا تُعَذِّبۡهُمۡ ؕ قَدۡ جِئۡنٰكَ بِاٰيَةٍ مِّنۡ رَّبِّكَ ؕ وَالسَّلٰمُ عَلٰى مَنِ اتَّبَعَ الۡهُدٰى ﴿٤٧﴾ اِنَّا قَدۡ اُوۡحِىَ
اِلَيۡنَاۤ اَنَّ الۡعَذَابَ عَلٰى مَنۡ كَذَّبَ وَتَوَلّٰى ﴿٤٨﴾ قَالَ فَمَنۡ رَّبُّكُمَا يٰمُوۡسٰى ﴿٤٩﴾ قَالَ رَبُّنَا الَّذِىۡۤ اَعۡطٰى كُلَّ شَىۡءٍ خَلۡقَهٗ

په مونږ باندے یاسر کشی به اوکړی (٤٥) اُوئیل مه ویریږ ئے یقیناً څه ستاسو سره یم اورم او وینم (٤٦) پس لاړشئ دواړه هغه ته نو اُوائیے یقیناً مونږ رالیږلے شوی یو ستا دَ رب دَ طرف نه نو پریږده زمونږ سره بنی اسرائیل او تکلیفونه مه ورکوه دوی ته یقیناً راوړے ده مونږ تاته نخه ستا دَ رب دَطرف نه او دَعذاب نه بچ کیدل دی هغه چا لره چه تابعدار وی دَ هدایت (٤٧) یقیناً وحی کړے شوے ده مونږ ته چه عذاب په هغه چا باندے راځی چه دروغژن کړی (حق لره) او مخ اوګرځوی (٤٨) اُوئیل فرعون پس څوك دے ستاسو رب اے موسیٰ (٤٩) اُوئیل هغه رب زمونږ هغه ذات دے چه ورکړے ئے دے هر څیز ته پیدائش دَهغه

ذکرکړوځکه چه انبیاء علیهم السلام په غیب نه پوهیږی نویقینی فیصله نشی کولے یا لَعَلَّ په معنیٰ دَکے دے یعنی دَ دے دَپاره چه فرعون ایمان راوړی نو مقصد دَ دعوت نه ایمان دَ فرعون دے ـ بیا فرق په مینځ دَ تذکراودَ خشیت کښ دا دے چه کله وعظ اونصیحت اودلیلونه په انسان باندے اثراوکړی او ایمان راوړی نو دیته تذکروائی او کله چه تخویف په انسان باندے اثر اوکړی او ایمان راوړی نودا خشیت دے۔

[٤٥] په دے ایت کښ ذکردَخوف طبعی دے چه منافی نه دے دَ نبوت سره اودا خوف په باره دَ مستقبل کښ دَګمان او امید پځائے کښ استعمالیږی۔ اوفرق دَ فرط اوطغیان په مینځ کښ دا دے چه بیان ته غوږاونه نیسی اودَ اول سرنه انکار اوکړی نو دافرط دے او هرکله چه غوږ اونیسی او بیا مخالفت اوکړی نودیته طغیان وائی۔

[٤٦] دا تسلی ده دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه په نصرت اوامدادکولوسره اومعیت صفت دَ اللّٰه دے اوسلف صالحینودَ هغے معنی په نصرت اومدد سره کړیده او اَسمَعُ وَ اَرٰی کښ معنیٰ دَ معیت ته اشاره ده او دا دواړه فعلونه ئے مطلق ذکرکړیدی اشاره ده عموم ته چه ستاسواو ستاسو دَ دشمنانو خبرے آوری او دَ دواړو حالات وینی۔

[٤٧] په دے ایت کښ بیان دَ طریقے دَ دعوت دے اوپه دے کښ پنځه خبرے دی۔ اوله خبره بیان دَ رسالت دے دپاره دَاثبات دَ ربوبیت دَ اللّٰه تعالیٰ اودا دواړه اصلی مقصدونه دی۔ دویمه ازادول دَ بنی اسرائیلودَ ظلم دَفرعونیانونه څکه چه دوی نسلاً مؤحدین وؤ۔ دریمه خبره منع کول دَ فرعونیانو دَ ظلم کولونه په بنی اسرائیلو باندے۔ څلورمه خبره خبرورکول په معجزے سره دَپاره دَ اثبات دَتوحید اودَ رسالت۔ پنځمه خبره بشارت مؤمنانوته په سلامتیا سره دَ عذاب نه او په روستنئے جمله کښ مقصد سلام کول نه دی ـ هاں دَ حدیث دَ هرقل نه په جامع صحیح دَ بخاری کښ معلومه شویده چه کافرانوته سلام به هم په داسے طریقه کیدلے شی۔

[٤٨] په دے ایت کښ تخویف دَعذاب دے منکرینوته روستودَ بشارت نه متبعینوته اوبشارت اوتخویف طریقے دَ دعوت دی۔

ثُمَّ هَدٰى ﴿٥٠﴾ قَالَ فَمَا بَالُ الْقُرُوْنِ الْاُوْلٰى ﴿٥١﴾ قَالَ عِلْمُهَا عِنْدَ رَبِّيْ فِيْ كِتٰبٍ ۚ لَا يَضِلُّ رَبِّيْ وَلَا يَنْسَى ﴿٥٢﴾
الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ مَهْدًا وَّسَلَكَ لَكُمْ فِيْهَا سُبُلًا وَّاَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً ؕ فَاَخْرَجْنَا بِهٖۤ اَزْوَاجًا
مِّنْ نَّبَاتٍ شَتّٰى ﴿٥٣﴾ كُلُوْا وَارْعَوْا اَنْعَامَكُمْ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّاُولِي النُّهٰى ﴿٥٤﴾ مِنْهَا خَلَقْنٰكُمْ وَ

بیائے ورته لار خودلے ده (٥٠) اُوئیل فرعون پس څه حال دے دَپیرو مخکښنو (٥١) اُوئیل موسیٰ خبر دَ هغے زما دَ رب سره دے په کتاب کښ نه غافل کیږی رب زما اونه ترینه هیریږی څه څیز (٥٢) هغه ذات دے چه جوړه کړیده ستاسو دپاره زمکه دَ آرام ځائے او تیارے کړیدی تاسو لره په هغے کښ لارے دَ تللو او راورولے دی دَطرف دَ اسمان نه اوبه نورا اویستلے دی مونږ په هغے سره جوړئے دَ بوټو مختلفونه (٥٣) خورئے او سَرَوئے څاروی خپل یقیناً په دے کښ شته ډیرے نښانے دپاره دَ عقل والو (٥٤) دَ دے زمکے نه مونږ پیدا کړی ئے تاسو او

[٤٩] په دے ایت کښ اول سوال دَ فرعون ذکر کړے شوے دے په باره دَ ربوبیت کښ ځکه چه هغوی ورته اُوئیل رسولا ربك۔ ځکه چه فرعون دعویٰ دَ ربوبیت دَ مصر کړے وه چه ځه دَ دے مدبریم نو دَ دے وجے نه ځه حق دار دَ بندګئے یم لکه چه سورة نازعات (٢٤) کښ ذکر دی۔

[٥٠] حاصل دَ جواب دا دے چه رب هغه څوك کیدیشی چه پیداکوؤنکے وی هدایت نه مراد عام دے یعنی هر څیز ته فطری طور باندے دَ هغه دَ ژوند دَ تیرولو طریقے ښودل اوپه لفظ دَ اعطیٰ کښ اشاره ده چه خلق (وجود) نعمت او عطیه ده دَ طرف دَ اللّٰه تعالیٰ نه او په دے کښ چه دَ خلق دَپاره دَ کومو موادو او اسبابو ته ضرورت دے هغه ټول اللّٰه تعالیٰ ورکوی۔

[٥١] په دے ایت کښ دویم سوال دَ فرعون ذکر دے مطلب دَ سوال دا دے که ستا خبره حقه وی نو تیروشوو مشرانو خو دَ هغے خلاف کړے دے اوبندګی دَغیر اللّٰه ئے کړے ده۔ نودَ هغے په باره کښ ته ځه وائے او داسوال دَ فرعون یوه دهوکه ورکول وو موسیٰ علیه السلام ته یعنی کجړے موسیٰ علیه السلام دَ دے په جواب کښ اُوائي چه هغه خوټول ګمراهان وؤ نو عوام خلق به ترینه ټول ناراض شی۔

[٥٢] په دے ایت کښ جواب دے دَ موسیٰ علیه السلام دَ طرف نه په حکمت سره چه علم دَ هغے ئے اللّٰه تعالیٰ ته اوسپارلواوپه خپله ئے دَ هغئی په باره کښ هیڅ فیصله اونکړه۔ اودا ادب دے دپاره دَ دعوت کونکو چه اوس هم مخالفین داسے تپوسونه کوی نودَهغے جواب په داسے طرزسره پکار دے دپاره دَ دے چه هغوی په ضد کښ اخته نشی۔ اوپه دے ایت کښ دوه صفتونه چه هغه صفات سلبیه دی دَ اللّٰه تعالیٰ نه نفی کړے شوی دی۔

[٥٣] په دے ایت کښ دلیل عقلی دے په توحید باندے اودیته تنویر وئیلے شی په طریقه دَ ادخال الٰهی سره یعنی هرکله چه موسیٰ علیه السلام دَ اللّٰه تعالیٰ دوه صفتونه سلبیه ذکرکړل په طریقه دَ دلیل سره نودَ نورو وضاحت دپاره اللّٰه تعالیٰ دَخپل طرف نه نور دلیلونه دَ توحید ذکرکوی په ذکردَ صفات فعلیه ثبوتیه سره۔ اوپه دے کښ څلورکارونه دَقدرت دَاللّٰه تعالیٰ ذکرکړے شویدی ﴿اَزْوَاجًا﴾ جوړے نراومادہ چه اونو او بوټو کښ هم شته یا ازواج په معنیٰ دَ قسمونو دے۔

فِيْهَا نُعِيْدُكُمْ وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً اُخْرٰى ﴿٥٥﴾ وَلَقَدْ اَرَيْنٰهُ اٰيٰتِنَا كُلَّهَا فَكَذَّبَ وَاَبٰى ﴿٥٦﴾ قَالَ
اَجِئْتَنَا لِتُخْرِجَنَا مِنْ اَرْضِنَا بِسِحْرِكَ يٰمُوْسٰى ﴿٥٧﴾ فَلَنَاْتِيَنَّكَ بِسِحْرٍ مِّثْلِهٖ فَاجْعَلْ بَيْنَنَا وَبَيْنَكَ
مَوْعِدًا لَّا نُخْلِفُهٗ نَحْنُ وَلَاۤ اَنْتَ مَكَانًا سُوًى ﴿٥٨﴾ قَالَ مَوْعِدُكُمْ يَوْمُ الزِّيْنَةِ وَاَنْ يُّحْشَرَ النَّاسُ

په دے کښ به دوباره بوځو تاسو او دَ دے نه به را اوباسو تاسو بل ځل (٥٥) او یقیناً اوخودلے مونږ فرعون ته نخښے زمونږ ټولے نو دروغژن ئے کړے اوانکار ئے اوکړو (٥٦) اُوئیل ایا ته راغلے ئے مونږ ته چه اوباسے مونږ دَ وطن زمونږ نه په جادو خپل سره اے موسیٰ (٥٧) پس رابولو تاته جادو دَ دے پشان پس مقرر کړه په مینځ زمونږ اوستا کښ مقرر وخت چه خلاف به نکؤو مونږ اونه ته ځائے برابر (٥٨) اُوئیل موسیٰ(علیه السلام) مقرر وخت ستاسو ورځ دَ خوشحالئے ستاسو ده او چه راجمع کړے شی خلق

[٥٤] په دے ایت کښ بل دلیل عقلی دے په ذکردَ بعض نعمتونوسره په انسانانواوپه ځناورو باندے اوَدائے په صیغه دَامرسره ذکرکړل ځکه چه خوراك اودَ ځاروؤ حق ادا کول هم دَ واجباتونه دی او په دے کښ مراد فائده اخستل دی دَ هغه خیزونونه چه په محکښ ایت کښ ذکرشویدی ﴿النُّهٰى﴾ جمع دَنُهیة یانهوة ده هغه ځیزچه په هغے سره دَ بدکارونونه بچ کیدل کیږی نو هغه عقل او عدل دے په دے شرط سره چه دَ منع کولو دَپاره استعمال کړیشی۔

[٥٥] په دے کښ بل دلیل عقلی دے او دَ انسانانو درے حالتونه ئے ذکرکړی دی۔ اوپه هغے درے واړو حالتونوکښ دوی اللّٰه تعالیٰ ته محتاج دی اول ژوند ورکول بیا مرګ بیا دوباره ژوند (بعث بعد الموت)۔

[٥٦] دَ دے ایت نه څلورم مقام شروع کیږی تر ایت (٧٦) پورے په دے کښ ذکرکیږی مقابله دَ موسیٰ(علیه السلام) دَ ساحرانو سره اوغلبه موندل په هغوی باندے، بیا ئے ذکرکړے دے ایمان راوړل دَ ساحرانوپه شجاعت دَ هغی بیا تخویف دے په (٧٤) ایت کښ اوبشارت دے مؤمنانوته په (٧٦،٧٥) ایت کښ۔ په دے (٥٦) ایت کښ ذکردَ ټولومعجزاتودَموسیٰ(علیه السلام)دے په اجمالی طریقوسره اوهغه نهه دی لکه چه سورة بنی اسرائیل کښ په ایت (١٠١) کښ تیرشوی دی۔ اوتفصیل دَ هغے په سورة اعراف کښ ذکرکړے شوے دے ﴿فَكَذَّبَ﴾ دا ذکر دَ اسبابودَ عذاب دے تکذیب نه مراد دا دے چه دا ایات ئے دَ طرف دَ اللّٰه تعالیٰ نه نه منل او ابیٰ دا ده چه دَ توحید اودَ رسالت منلونه ئے انکاراوکړو۔

[٥٧] دا اعتراض دَ فرعون بناء دے په وهم دَهغه باندے یا دوکه ورکوی قوم ته چه دا موسیٰ(علیه السلام) زمونږنه وطن قبضه کوی اوایاتوته ئے سحر اُوئیل۔

[٥٨] په دے ایت کښ وعده کول دی دَفرعون دَموسیٰ(علیه السلام) سره په مقابله کولوپه جادوسره اواختیار ئے ورکړوموسیٰ(علیه السلام) ته چه تاریخ اوځائے دَمقابلے کولوته پخپله مقررکړه ﴿مَوْعِدًا﴾ وخت او مکان دواړو ته شامل دے نو﴿مَكَانًا سُوًى﴾ دَ دے نه بدل بعض دے او مراد دَ سُوًی نه دا دے چه دَ دواړو فریقو په مینځ کښ دے او راتلل ورته دَ دواړو اسان دی یا سُوًی په معنیٰ دَ هموار میدان دے۔

ضُحًى ﴿٥٩﴾ فَتَوَلّٰى فِرْعَوْنُ فَجَمَعَ كَيْدَهٗ ثُمَّ اَتٰى ﴿٦٠﴾ قَالَ لَهُمْ مُّوْسٰى وَيْلَكُمْ لَا تَفْتَرُوْا عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا
فَيُسْحِتَكُمْ بِعَذَابٍ ۚ وَقَدْ خَابَ مَنِ افْتَرٰى ﴿٦١﴾ فَتَنَازَعُوْٓا اَمْرَهُمْ بَيْنَهُمْ وَاَسَرُّوا النَّجْوٰى ﴿٦٢﴾
قَالُوْٓا اِنْ هٰذٰنِ لَسٰحِرٰنِ يُرِيْدٰنِ اَنْ يُّخْرِجٰكُمْ مِّنْ اَرْضِكُمْ بِسِحْرِهِمَا وَيَذْهَبَا بِطَرِيْقَتِكُمُ
الْمُثْلٰى ﴿٦٣﴾ فَاَجْمِعُوْا كَيْدَكُمْ ثُمَّ ائْتُوْا صَفًّا ۚ وَقَدْ اَفْلَحَ الْيَوْمَ مَنِ اسْتَعْلٰى ﴿٦٤﴾ قَالُوْا يٰمُوْسٰٓى اِمَّآ اَنْ

په وخت دَ ساخت کښ (٥٩) پس مخ اوګرځوؤ فرعون نو راجمع ئے کړل خپل چل والا بیا راغے (٦٠) اُوئیل دوی ته موسیٰ(علیه السلام) تباه به شئ مه جوړوئے په اللّٰه تعالیٰ باندے دروغ پس ویخ به اوباسی ستاسو په عذاب سره او یقیناً نا امیده شو هغه څوك چه دروغ ئے جوړ کړل (٦١) پس اختلاف او کړو دوی په باره دَهغوی کښ په مینځ خپل کښ او پټه جرګه ئے اوکړله (٦٢) اُوئیل دوی یقیناً دا دواړه ځامخا جادوګران دی غواړی دوی چه اوباسی تاسو لره دَ وطن ستاسونه په سبب دَ جادو خپل او ورانه کړی (لرے کړی) لار ستاسو چه غوره ده (٦٣) پس کلك کړئ چل ول خپل بیا راشئ صفونه او یقیناً کامیاب دے نن هغه څوك چه برے ئے اومندلو (٦٤) اُوئیل دوی اے موسیٰ یا

[٥٩] په دے ایت کښ مقرر کړو موسیٰ(علیه السلام) وخت اوتاریخ دَ مقابلے تاریخ ته ئیے ﴿يَوْمُ الزِّيْنَةِ﴾ اُوئیل یعنی هغه ورځ چه په هغے کښ جشن کیدهٔ دَفرعون دَپیدائش یا دَهغه دَتاج پوښئی اوپه دے لفظ سره دَ مکان تعین هم اوکړے شو ځکه چه زینت په دارالخلافه کښ کیږی۔ دا ورځ دَ دے وجے نه مقررشوه چه دَخلقوبه هم چهټی وی نوګنړخلق به ښارته راجمع کیږی تماشه به اوکړی۔ او وخت دَ ساخت ئیے ځکه مقرر کړو چه خلق دَ لرے لرے ځایونونه را اورسی اوبیا هم دَ شپے دپاره واپس خپلوکورونوته اورسی خلقوته به اسانه وی اوپه فرعون باندے به دَخلقودَ خوراك تکلیف نه راځی۔

[٦٠] یوه معنیٰ دا ده چه فرعون دَ حق نه مخ واړو اوپه ضد باندے اودریدو اودویمه معنیٰ دا ده چه روان شوخپل ځائے ته دَپاره دَ تیارے کولو دَمقابلے اودَ کیدَه نه مراد ساحران دی یعنی اهل کیدیا مراد دا چه پوخ ئیے کړوتدبیرخپل۔

[٦١] موسیٰ(علیه السلام) ساحرانوته نصیحت اوکړوچه شرك مه کوئے معلومه شوه چه تمام خلق دَمصرمشرکان وؤ دهریان نه وؤ ﴿فَيُسْحِتَكُمْ﴾ سحت بیخ کندئے ته وئیلے شی اومراد دَ دے نه عذاب دنیوی دے ﴿وَقَدْ خَابَ﴾ کښ مراد عذاب اخروی دے یا ﴿بِعَذَابٍ﴾ نه مراد عام دے دنیوی او اخروی اوقد خاب نه مراد ناکامی ده په مقابله کښ۔ اویره ئیے ورکړه هغوی ته په عذاب سره۔

[٦٢] یعنی دَموسیٰ(علیه السلام) په دے نصیحت کولوسره په ساحرانو کښ اختلاف پیداشوچا اُوئیل چه دا خبرے دَ دهٔ دَ نبوت دی اوبعضو اُوئیل چه دا په مونږباندے دباؤ کوی اوپټه جرګه ئیے اوکړه، که دے نبی وی نوغالب به شی نومونږبه په دهٔ باندے ایمان راوړو۔

[٦٣] دا قول دَفرعونیانودے اوهغوی درے خبرے اوکړے یوئے حکم اوکړو چه دا دواړه جادوګردی۔ دویم حکومت والائے اویرول چه ستاسونه بادشاهی اخلی دریم عوام ئے اویرول چه دوی ستاسوحق دین خرابوی ﴿اِنْ هٰذٰنِ﴾ ابن کثیر وئیلی دی چه داهم دَ بعض عربو لغت دے چه دَ اِنَّ په ځائے اِن او اسم دَ هغے

تُلْقِيَ وَإِمَّآ اَنْ نَّكُوْنَ اَوَّلَ مَنْ اَلْقٰى ﴿٦٥﴾ قَالَ بَلْ اَلْقُوْا ۚ فَاِذَا حِبَالُهُمْ وَعِصِيُّهُمْ يُخَيَّلُ اِلَيْهِ
مِنْ سِحْرِهِمْ اَنَّهَا تَسْعٰى ﴿٦٦﴾ فَاَوْجَسَ فِيْ نَفْسِهٖ خِيْفَةً مُّوْسٰى ﴿٦٧﴾ قُلْنَا لَا تَخَفْ اِنَّكَ اَنْتَ الْاَعْلٰى ﴿٦٨﴾
وَاَلْقِ مَا فِيْ يَمِيْنِكَ تَلْقَفْ مَا صَنَعُوْا ۭ اِنَّمَا صَنَعُوْا كَيْدُ سٰحِرٍ ۭ وَلَا يُفْلِحُ السّٰحِرُ حَيْثُ اَتٰى ﴿٦٩﴾

ته اوغورځوه یا به مونږ شو اول دَ غورځوونکونه (٦٥) اُوئیل هغه بلکه اوغورځوئے تاسو نو دغه وخت رسئ دَهغوی اوهمسا ګانے دَهغوی په خیال کښ راتلے موسیٰ(علیه السلام) ته دَوجے دَ جادو دَهغوی نه چه یقیناً دا منلے وهی (٦٦) پس تیره کړه په زړه کښ ویره موسیٰ(علیه السلام) (٦٧) اُوئیل مونږ مه ویریږه یقیناً ته بره ئے (٦٨) او اوغورځوه هغه چه ستا په ښی لاس کښ دی تیر به کړی (په یوځل) هغه چه دوی څه جوړ کړیدی یقیناً هغه چه دوی جوړ کړیدے چل ول دَ جادوګرئے اونه کامیابیږی جادوګر هرځائے چه راشی (٦٩)

مرفوع وائي او بعضو وئیلے دی چه دا مخفف دے دَ مثقل نه اوضمیرشان (اسم) ئے حذف دے اوهذان مبتداده اوبعضو وئیلی دی چه اِن نافیه دے اولام په معنی اِلّا سره دے۔

[٦٤] ﴿صَفًّا﴾ دَ دے یوه معنیٰ دا ده چه صفونه جوړ کړئ دپاره دَ دے چه په موسیٰ علیه السلام باندے رعب راشی۔ دویمه معنیٰ دا ده چه راشئ عیدګاه ته یعنی ځائے دَ جشن کولوته ﴿وَقَدْ اَفْلَحَ﴾ دا دَ دُنیا پرستو خیال دے چه دَ دنیاکامیابی فلاح ګنړی ﴿اسْتَعْلٰى﴾ ئے دَ دے وجے نه اُوئیل چه علوخودوی اصلی دَ فرعون دَپاره ګنړله او په مقابله سره چه علوحاصلیږی هغه عارضی وی نوهغے ته ئے استعلاء اُوئیل۔

[٦٥] په دے ایت کښ اشاره ده چه ساحرانودَموسیٰ علیه السلام ادب کړے دے اودَ دے په وجه هغوی له ایمان نصیب شواوپه حدیث دَبخاری اسلمت علے ماسلف بك من الخیرکښ هم دیته اشاره ده۔

[٦٦] په دے ایت کښ اشاره ده چه سحردَ هغوی نظر بندی کول وو اودا دلیل دے په دے خبره باندے چه دَسحراثرپه پیغمبرانوباندے هم کیږی لیکن دَ هغوی عقل اودین ته نقصان نشی رسوَلے صرف قوت خیالیه باندے اثرپریوځی اودایومرض دے چه دَ نبوت سره منافات نه لری دَدے تفصیل په تفسیردَ سورة فلق کښ راځی۔

[٦٧] یره کول دَموسیٰ علیه السلام دَ مارانونه طبعی یره وه او دَ دے دَ نبوت سره منافات نیشته یا موسیٰ علیه السلام دَ دے نه اویریدوچه عام خلقوباندے دَ سحر دَ وجے نه حق ګډوډ نشی یا دَ دے وجے نه چه معجزه خو دَ دهٔ په اختیارکښ نه وه نوکیدے شی چه په دے وخت کښ دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه امراونشی۔

[٦٨] په دے ایت کښ تسلّی ده موسیٰ علیه السلام ته په اوچت والی دَ مرتبے سره په دنیا او اخرت کښ او دلیل دے په دے خبره چه دَ اعلیٰ اطلاق په مخلوق باندے هم کیدیشی۔

[٦٩] دیکښ تسلی ده موسیٰ علیه السلام ته په ذکردَ سبب دَغلبے دَهغه په دوه طریقوسره اوله طریقه په تَلَقَّفْ سره ده اودویمه طریقه په وَلَايُفْلِحُ السَّاحِرُسره ده اوپه لفظ دَ ﴿مَافِيْ يَمِيْنِكَ﴾ کښ اشاره ده چه ستامعجزه بے تکلیفه کار دے اواشاره ده چه ستا همساء سره دَ وړوکوالی نه غټے رسئی اوهمساګانے به تیرے کړی دَ تلقف دوه معنے دی اوله معنیٰ مشهوره ده چه هغے ماردَ موسیٰ علیه السلام هغه ټولے رسئے اوهغه همساګانے دَ یونوړے پشان تیرے کړے اودویمه معنیٰ شعرانی وئیلی دی چه داکنایه ده دَهغے دَ اثرختم کولونه یعنی دَ همسګانو او رسونه شکل دَ مارانو ختم شو لیکن اوله معنیٰ صحیح ده ﴿اِنَّمَا﴾ دامرکب دے دَ انَّ اوما

فَاُلْقِيَ السَّحَرَةُ سُجَّدًا قَالُوْٓا اٰمَنَّا بِرَبِّ هٰرُوْنَ وَمُوْسٰى ﴿۷۰﴾ قَالَ اٰمَنْتُمْ لَهٗ قَبْلَ اَنْ اٰذَنَ لَكُمْ ۭ اِنَّهٗ
لَكَبِيْرُكُمُ الَّذِيْ عَلَّمَكُمُ السِّحْرَ ۚ فَلَاُقَطِّعَنَّ اَيْدِيَكُمْ وَاَرْجُلَكُمْ مِّنْ خِلَافٍ وَّلَاُوصَلِّبَنَّكُمْ فِيْ جُذُوْعِ
النَّخْلِ ۡ وَلَتَعْلَمُنَّ اَيُّنَآ اَشَدُّ عَذَابًا وَّاَبْقٰى ﴿۷۱﴾ قَالُوْا لَنْ نُّؤْثِرَكَ عَلٰي مَا جَاۗءَنَا مِنَ الْبَيِّنٰتِ وَالَّذِيْ
فَطَرَنَا فَاقْضِ مَآ اَنْتَ قَاضٍ ۭ اِنَّمَا تَقْضِيْ هٰذِهِ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا ﴿۷۲﴾ اِنَّآ اٰمَنَّا بِرَبِّنَا لِيَغْفِرَ لَنَا

پس اوغورځولے شو جادوګران سجده کۈونکی اُوئیل دوی ایمان راوړے دے مونږ په رب دَ هارون(علیه السلام) او دَ موسیٰ(علیه السلام) (۷۰) اُوئیل فرعون ایا ایمان راوړلو تاسو په دهٔ باندے مخکښ دَ دے نه چه اجازت کړے وے ما تاسوته یقیناً دا ستاسو مشردے هغه چه خودلے ئیے دے تاسوته جادو نو ضرور پرے به کړم لاس ستاسو او خپے ستاسو ادل بدل او ضرور پهانسی به کړم تاسو په تنو دَ کجوروکښ او خامخا پوهه به شئ چه کوم یو زمونږ نه ډیر سخت عذاب والا دے اوهمیشه (عذاب والا) دے (۷۱) دوی اُوئیل هیڅرے نه غوره کۈو مونږ تا په مقابله دَ هغه چه راغلے دی مونږ ته دَښکاره معجزاتونه اوهغه ذات چه مونږ ئے پیدا کړی یو پس فیصله اوکړه هغه چه ته ځه فیصله کوۈنکے ئے یقیناً ستا فیصله چلیږی په دے ژوند دُنیوی کښ(۷۲) یقیناً مونږ ایمان راوړے دے په رب خپل باندے دَ دے دپاره چه بخنه اوکړی مونږ ته

موصوله نه ﴿حَيْثُ اَتٰى﴾ یعنی هرمقام کښ نشی کامیاب کیدے او خصوصاً دَ معجزے په مقابله کښ هیڅ کله نشی کامیاب کیدلے۔

[۷۰] لفظ دَ اُلقِي دلالت کوی په دے باندے چه معجزه دَموسیٰ(علیه السلام) ښکاره دلیل ووپه توحید دَ اللّٰه تعالیٰ چه په وجه دَ هغے سره دوی مجبوره شوسجدے کولوته اوایمان راوړلوته دَد ے وجے نه صیغه دَمجهول ئیے راوړله ﴿اٰمَنَّا﴾ اشاره ده چه دا سجده دَ دوی دَ ایمان دَ وجے نه ده سجده طبعی یا عادتی نه ده۔

فائده: په نوروسورتونوکښ موسیٰ مخکښ اوهارون روستوذکر شویدے اودلته ئیے هارون مخکښ راوړے دے یوخودَ اياتونوفواصلودَ وجے نه اودویم په دے سورهٔ کښ دَهارون(علیه السلام) شان ذکرکول مقصد دے لکه چه دَ هغه دَ نبوت سوال اوکړے شوبیا دوی ته ئیے رسولاپه تثنیه سره اُوئیل اوروستودَ هارون(علیه السلام) صفائی ذکرکوی دَ لقد قال لهم هارون سره۔

[۷۱] په دے ایت کښ ذکرکړے ده اول زورنه دَ فرعون ساحرانوته په ایمان راوړلوبے اجازته اوبیائے ذکرکړے دے دروغژن دلیل دَ هغه چه موسیٰ(علیه السلام) ستاسواستاذ دے حال دا دے چه دَموسیٰ(علیه السلام) دَمصرد راتللونه مخکښ داساحران موجود وۈ سحرونه ئیے کول ﴿اَيُّنَآ اَشَدُّ﴾ مراد دَ دے نه څان دَفرعون او رب دَموسیٰ(علیه السلام) دے۔ اوبیائے ذکرکړے دے په دریو جملوکښ د باۈکول په ساحرانوپه عذاب ورکولو سره۔

[۷۲] په دے ایت کښ ئے ذکرکړے دے شجاعت دَساحرانوپس دَ ایمان راوړلونه دَ ﴿وَالَّذِيْ فَطَرَنَا﴾دوه معنے دی اوله معنیٰ دا ده چه نه غوره کۈومونږتالره په مقابله دَ هغه ذات کښ چه مونږ ئیے پیداکړی یو۔ دویمه معنیٰ دا ده چه قسم دے په هغه ذات چه مونږه ئیے پیداکړی یو۔ اودَ اخری جملے مطلب دا دے چه ستا زور صرف په دنیاکښ چلیدے شی اوپه اخرت کښ نه چلیږی۔

خَطٰيٰنَا وَمَآ اَكْرَهْتَنَا عَلَيْهِ مِنَ السِّحْرِ ؕ وَاللّٰهُ خَيْرٌ وَّاَبْقٰى ﴿٧٣﴾ اِنَّهٗ مَنْ يَّاْتِ رَبَّهٗ مُجْرِمًا فَاِنَّ
لَهٗ جَهَنَّمَ ؕ لَا يَمُوْتُ فِيْهَا وَلَا يَحْيٰى ﴿٧٤﴾ وَمَنْ يَّاْتِهٖ مُؤْمِنًا قَدْ عَمِلَ الصّٰلِحٰتِ فَاُولٰٓئِكَ لَهُمُ
الدَّرَجٰتُ الْعُلٰى ﴿٧٥﴾ جَنّٰتُ عَدْنٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ وَذٰلِكَ جَزٰٓؤُا مَنْ تَزَكّٰى ﴿٧٦﴾
وَلَقَدْ اَوْحَيْنَآ اِلٰى مُوْسٰٓى ۙ اَنْ اَسْرِ بِعِبَادِيْ فَاضْرِبْ لَهُمْ طَرِيْقًا فِي الْبَحْرِ يَبَسًا ۙ لَّا تَخٰفُ
دَرَكًا وَّلَا تَخْشٰى ﴿٧٧﴾ فَاَتْبَعَهُمْ فِرْعَوْنُ بِجُنُوْدِهٖ فَغَشِيَهُمْ مِّنَ الْيَمِّ مَا غَشِيَهُمْ ﴿٧٨﴾ وَاَضَلَّ فِرْعَوْنُ

دَ ګناهونو زمونږ اوهغه چه زور کړے دے تا په مونږ باندے په باره دَ هغے کښ دَ جادو کولونه او اللّٰه تعالیٰ غوره دے او همیشه دے (٧٣) یقیناً څوك چه راشی رب خپل ته مجرم پس یقیناً دهٔ لره جهنم دے نه به مری په هغے کښ اونه به ژوندے وی (په فائِده مندژوند سره)(٧٤) اوځوك چه راشی هغه ته مؤمن حال داچه نیك عملونه ئے کړی وی نو دغه خلق دوی لره درجے اوچتے دی (٧٥) جنتونه دَ همیش والی بهیږی به دَ لاندے دَهغے نه ولے همیشه به وی دوی په هغے کښ او دا بدله ده دَهغه چاچه ځان ئے پاك ساتلے دے (دَ شرك نه) (٧٦) او یقیناً وحی اوکړه مونږ موسیٰ(علیه السلام) ته چه دَشپے بوځه بندګان زما پس اُوهه (دریاب) (جوړے کړه) دوی لره لارے په دریاب کښ اوچے نه به یریږے دَ لاندے کولونه اونه به یریږے دَغرقیدلونه (٧٧) پس لاړو په دوی پسے فرعون دَ لښکرو سره پس راګیر کړو دوی لره دَ دریاب نه هغه څه چه دوی ئے پټ کړل (٧٨) اوبے لارے کړو فرعون

[٧٣] په دے ایت کښ دلیل دے چه په ایمان راوړلوسره ټول تیرشوی ګناهونه معاف کیږی۔ ﴿وَمَآ اَكْرَهْتَنَا عَلَيْهِ﴾ نه مراد دا دے چه هرکله ساحرانو دَمقابلے کولونه مخکښ چه دَ موسیٰ(علیه السلام) پیغمبری اوپیژندله نودوی انکاراوکړو دَمقابلے نه نو فرعون په دوی باندے اکراه اوکړه په سحرکولو سره یا مراد دَ دے نه دا دے چه فرعون په خپل ملك کښ تعلیم دَ سحریه زور جاری کړے وو ﴿وَاللّٰهُ خَيْرٌ وَّاَبْقٰى﴾ یومعنیٰ داده چه دَ اللّٰه تعالیٰ اطاعت غوره دے اوثواب دَ هغے همیشه دے دویمه معنیٰ دا ده چه اللّٰه غوره دے کله چه دَهغه اطاعت اوکړے شی اوعذاب دَ هغه باقی اوهمیشه نه دے کله چه دَ هغه عصیان اوکړیشی۔

[٧٤] په دے ایت کښ تخویف اخروی دے منکرینوته اولفظ دَمجرِماً کښ اشاره ده چه په میدان دَقیامت کښ په ګناهګاروباندے دَ هغوی ګناهونه به بښکاریږی ﴿وَلَا يَحْيٰى﴾ مراد دا دے چه په ژوند سره به فائده نشی حاصلولے او داسے په سورة اعلی (١٣) کښ دی اولایموت دلیل دے چه اهل جهنم به همیشه وی۔

[٧٦،٧٥] په دے ایتونوکښ بشارت اخروی دے قد عمل الصالحات کښ اشاره ده استقامت اوشجاعت ته پشان دَ هغه ساحرانو ﴿الدَّرَجٰتُ الْعُلٰى﴾ په حدیث سره ثابت دی چه په جنت کښ سل درجے دی اوهردوارو درجوپه مینځ کښ دَ اسمان اودَ زمکے پشان فاصله ده۔ خوپه اخری جمله کښ اشاره ده چه جنت دَپاکانوځائے دے اوپاکوالے حاصلیږی په ایمان اونیك عمل سره ﴿تَزَكّٰى﴾ ابن کثیروائی چه ځان پاك کړی دَ خیری اوپلیتیٔ دَشرك نه اوبندګی دَاللّٰه تعالیٰ کوی اودَ رسولانواتباع کوی۔

[٧٧] دَ دے ایت نه پنځم مقام شروع کیږی تر آیت (٨٢) پورے په دیکښ ذکردَ نجات موندلو دَ بنی

قَوْمَهٗ وَمَا هَدٰى ﴿٧٩﴾ يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ قَدْ اَنْجَيْنٰكُمْ مِّنْ عَدُوِّكُمْ وَوٰعَدْنٰكُمْ جَانِبَ الطُّوْرِ الْاَيْمَنَ
وَنَزَّلْنَا عَلَيْكُمُ الْمَنَّ وَالسَّلْوٰى ﴿٨٠﴾ كُلُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا رَزَقْنٰكُمْ وَلَا تَطْغَوْا فِيْهِ فَيَحِلَّ
عَلَيْكُمْ غَضَبِيْ ۚ وَمَنْ يَّحْلِلْ عَلَيْهِ غَضَبِيْ فَقَدْ هَوٰى ﴿٨١﴾ وَاِنِّيْ لَغَفَّارٌ لِّمَنْ تَابَ وَاٰمَنَ وَعَمِلَ

قوم خپل لره اوهیڅ لارئے اونه خودله دوی ته (۷۹) اے بنی اسرائیلو یقیناً بچ کړئے مونږ تاسو دَ دُشمن ستاسو نه او وعده کړے وه مونږ تاسو سره دَطرف دَ طورځی طرف او رالیږلی دی مونږ په تاسو باندے من او سلویٰ (۸۰) (اُوئیل مونږ) خورئے دَ حلال پاك هغے نه چه مونږ درکړے ؤو تاسو ته اوسرکشی مه کوئ په دے کښ پس نازل په شی په تاسو باندے غضب زما اوهغه څوك چه نازل شو په هغه باندے غضب زما پس یقیناً هلاك شو (۸۱) او یقیناً ځه خامخا بخنه کؤونکے یم هغه چاته چه توبه ئیے کړے ده او ایمان ئے راوړے دے او عمل ئے کړے دے

اسرائیلودے اوغرق کیدل دَ فرعون دی سره دَ قوم نه بیا یا داشت ورکول دی بنی اسرائیلوته په نعمتونو سره اوتخویف اوبشارت دے۔

فائده: په دے ایت کښ هجرت دَ بنی اسرائیلوذکرکوی اوپه هغے کښ اختصارکړے دے تفصیل دَهغے په سورۃ شعراء کښ دے ﴿طَرِيْقًا﴾ اسم جنس دے په معنیٰ دَجمع سره دے یعنی دولس لارے۔ دَرَکاً لاندے کول دَفرعونیانوتاسولره اودَاوبونه ﴿وَلَاتَخْشٰى﴾ دَ غرقیدلونه په دریاب کښ۔ اوحکم دَهجرت کولودَ شپے په وخت کښ دَ دے وجے نه دے چه مفسدان خلق دَ شپے په غفلت کښ وی او دا هجرت دَ دوی په وحی دَ اللّٰه تعالیٰ سره وو۔

[۷۸] په دے ایت کښ ذکردَغرقیدلو دے دَ فرعون سره دَ لښکرنه په طریقه دَ اختصار سره ﴿مَاغَشِيَهُمْ﴾ دا ابهام دَپاره دَ ډیرعظمت اوهیبت دے لکه په سورۃ نجم(٥٤) کښ۔

[۷۹] په دے کښ رد دے په دعوی دَ فرعون باندے چه هغه ذکر شوے ده په سورۃ حمٓ مؤمن ایت (۲۹) کښ۔

[۸۰] په دے آیت کښ ذکردَنعمتونودے په بنی اسرائیلوباندے دَ دے په سر کښ دا لفظ (چه اُوئیل مونږ دَ غرق دَ فرعون نه روستو) پټ دے۔ اول نعمت نجات دَ دشمن نه او دویم نعمت وعده دَ کتاب اللّٰه تعالیٰ ورکول وو۔ اودریم نعمت دَ مَن سَلویٰ وو۔ اول نعمت دَ امن دے دویم روحانی نعمت دے دریم جسمانی نعمت دے۔

[۸۱] دَکُلُوا نه مخکښ (قلنا) پټ مراد دے اوطغیان په خوراك کښ په څلورو طریقو سره دے اوله طریقه ناشکری کول دویمه طریقه په بدل دَاعلیٰ کښ ادنیٰ غوښتل، دریمه طریقه دَ هغے ذخیره کول په خلاف کولو دَ حکم دَ اللّٰه سره، اوځلورمه طریقه په هغے کښ دَ ځان نه حرام حلال جوړول او دا ټول طریقے اسباب دَ غضب الٰهی دی ﴿فَقَدْ هَوٰى﴾ په دے لفظ کښ اشاره ده چه ډیروالے دَ نعمتونودَ دنیا سره دَناشکرئے نه سبب دَ تنزل دے اگرچه دنیا پرست خلق دیته ترقی وائي اودا تنزل په اخرت کښ پوره ښکاره کیږی۔ اودَ ایت په اخرکښ تخویف اخروی ذکر دے۔

صَالِحًا ثُمَّ اهْتَدٰى ﴿٨٢﴾ وَمَآ اَعْجَلَكَ عَنْ قَوْمِكَ يٰمُوْسٰى ﴿٨٣﴾ قَالَ هُمْ اُولَآءِ عَلٰٓى اَثَرِىْ وَعَجِلْتُ
اِلَيْكَ رَبِّ لِتَرْضٰى ﴿٨٤﴾ قَالَ فَاِنَّا قَدْ فَتَنَّا قَوْمَكَ مِنْۢ بَعْدِكَ وَاَضَلَّهُمُ السَّامِرِىُّ ﴿٨٥﴾ فَرَجَعَ
مُوْسٰٓى اِلٰى قَوْمِهٖ غَضْبَانَ اَسِفًا ۚ قَالَ يٰقَوْمِ اَلَمْ يَعِدْكُمْ رَبُّكُمْ وَعْدًا حَسَنًا ۚ اَفَطَالَ

په تابعداریٔ دَ سنت بیا کلك وی په دین باندے (۸۲) (اُوئیل اللّٰه تعالٰی) اوځه ځیز زرراویستلے ته دَ قوم خپل نه اے موسیٰ (۸۳) اُوئیل هغه هغوی دغه دی چه زما په نقش قدم را روان دی اوزر راغلم تاته اے ربه زما د ے دپاره چه ته رضاشے (۸٤) اُوئیل اللّٰه پس یقیناً ازمیښت اوکړو مونږ په قوم ستا باندے روستو ستانه او ګمراهیٔ ته را اوبلل دوی لره سامری (۸۵) پس واپس لاړو موسیٰ(علیه السلام) قوم خپل ته غصه غمژن اُوئیل هغه اے قومه زما ایا وعده نه ده کړے تاسو سره رب ستاسو وعده خائسته ایا پس او ږد ه شوه

[۸۲] په دے ایت کښ بشارت دے په مغفرت دَ ګناهونوسره ﴿اهْتَدٰى﴾ هدایت په یوځوطریقوسره حاصلیږی، اوله طریقه استقامت په ایمان باندے ترمرګه پورے اودویمه طریقه دَ شکونونه بچ کیدل اودریمه طریقه په سنت دَ نبی مضبوط کیدل ابن کثیر وئیلی دی چه مستقیم شئ په سنت اوجماعت باندے اودا درجه (استقامت) دَ ایمان اوعمل صالح نه روستوده ځکه ئیے دا روستوذکرکړیده۔

[۸۳] دَ دے ایت نه شپږم مقام شروع دے تر(۹۸) ایت پورے په دے کښ ذکردَ غضب دَ موسیٰ(علیه السلام) دے خپل قوم ته، اوبیا رورته، اوبیا سامری ته، اوجواب کول دَ هریو پخپلے طریقے سره اوپه اخرکښ سوزول دَ سخی دی چه ماده دَشرك وه، اودعوت دے توحید ته۔

فائده: په دے (۸۳) کښ ذکرکوی اول میقات دَموسیٰ(علیه السلام) دپاره دَ اخستلودَ کتاب چه تفصیل دَ هغے په سورة اعراف (۱٤۲) کښ تیرشوے دے اوپه دے ایت کښ دَ موسیٰ(علیه السلام) نه دوه ټپوسونه ذکردی په یولفظ سره چه ما اعجلك دے۔ اول دا چه قوم دے په کوم حالت کښ پریخودلے دے او دویم دا چه دَ میقات دَ مقرر وخت نه وړاندے ولے راغلے۔

[۸٤] په دے ایت کښ دَ دواړوسوالونو جوابونه دی۔ اول جواب چه قوم ځما تابعدار دے، یعنی په هغی کښ شرك نیشته لفظ دَاثری په دے معنٰی باندے دلالت کوی۔ اودویم جواب دادے چه دَ وخت نه مخکښ راتلل دَ دے دَپاره چه ته ځمانه ډیر رضاشے داما په خپل اجتهاد سره کړی دی لکه چه یومؤمن مسجد ته دَ وخت دَ داخلیدلونه مخکښ دَمونځ دپاره لاړشی بعضے مفسرینودَ اثری معنٰی سره لیکلی دی چه قوم ما پسے طورته را روان دے لیکن ځه ترینه مخکښ زر راغلم دا قول دَ سورة اعراف دَ ترتیب نه خلاف دے ځکه چه په اول میقات کښ دَ موسیٰ(علیه السلام) سره نورخلق نیشته هغوی (اویاکسان) خوپه دویم میقات کښ وو او واقعه دَ عبادت دَ عجل دَ دویم میقات نه وړاندے شویده۔

[۸۵] په دے کښ اخبارد موسیٰ(علیه السلام) ته چه ستا قوم په شرك کښ اخته شویدے او ﴿فَتَنَّا﴾ کښ اشاره ده چه شیطان انسی یا جنی په یوقوم باندے مسلط کول امتحان دَ اللّٰه تعالٰی دے او ﴿اَضَلَّهُمُ﴾ په معنٰی دَ دعوت کولودَګمراهئی دے ځکه اضلال په اصل کښ فعل دَ اللّٰه تعالٰی دے۔ اوسبب دَ هغے سامری ګرځیدلے دے۔ په ایت کښ دلیل دے په دے خبره چه موسیٰ(علیه السلام) په غیب باندے خبرنه وؤ۔

عَلَيْكُمُ الْعَهْدُ اَمْ اَرَدْتُّمْ اَنْ يَّحِلَّ عَلَيْكُمْ غَضَبٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ فَاَخْلَفْتُمْ مَّوْعِدِيْ ﴿٨٦﴾ قَالُوْا مَآ اَخْلَفْنَا مَوْعِدَكَ بِمَلْكِنَا وَلٰكِنَّا حُمِّلْنَآ اَوْزَارًا مِّنْ زِيْنَةِ الْقَوْمِ فَقَذَفْنٰهَا فَكَذٰلِكَ اَلْقَى السَّامِرِيُّ ﴿٨٧﴾ فَاَخْرَجَ لَهُمْ عِجْلًا جَسَدًا لَّهٗ خُوَارٌ فَقَالُوْا هٰذَآ اِلٰهُكُمْ وَاِلٰهُ مُوْسٰى ۙ فَنَسِيَ ﴿٨٨﴾ اَفَلَا

په تاسو باندے وعده یا اراده اوکړه تاسو چه نازل شی په تاسو باندے غضب ستاسو دَ رب دَطرف نه پس خلاف اوکړو تاسو دَ وعدے زمانه (٨٦) دوی اُوئیل خلاف نه دے کړے مونږ ستا دَ وعدے نه په اختیار خپل سره اولیکن بوج کړے شو په مونږ باندے ګناهونه (دَ خیانت) دَ وجے دَ کالو دَ قوم دَفرعون نه پس اوغورځول مونږ هغے لره پس دارنګ اوغورځول سامری (٨٧)پس جوړئے کړو دوی لره سخے جوسه چه هغے لره اواز ؤو نودوی اُوئیل خلقوته داستاسو دَ بندګئ کولو حق داردے او اِلٰه دَ موسیٰ هم دے پس دهٗ هیر کړے دے (٨٨) ایادوی نه

فائده: سامری دَ سامره قبیلے نه ووَاسرائیلی وؤیا قبطی وؤدا دوه قولونه دی اول قول ډیرمشهوردے په دین دَ موسیٰ علیه السلام کښ داخل شوے وؤپه طریقه دَ منافقت سره اوبیا مرتد شونوښی اسرائیل ئے شرك ته را اوبلل۔

[٨٦] په دے ایت کښ اشاره ده چه دَبدکارپه لیدلوسره غصه کیدل دَ انبیاء علیهم السلام طریقه ده۔ ﴿غَضْبَانَ﴾ ظاهری غصے ته وئیلے شی اوآسِفاً دَ زړه خفګان ته وئیلے شی اوهغه زیات غضب دے۔ ﴿وَعْدًا حَسَناً﴾ دَ دے نه مراد مسئله دَ توحید ده۔ اوهغه اللّٰه تعالیٰ ثابت کړے ده په دلیلونو اومعجزا تو سره۔ حاصل دا دے چه تاسوخلاف اوکړو دَ وعدے دَتوحید نه نودَ دے وجے نه چه وخت په دے باندے ډیرتیرشویدے زړه شوه نوستاسونه هیره شوه۔ اویا قصداً هم خلاف اوکړو، نو دَ اللّٰه تعالیٰ غضب نازلیدل غواړئے۔ دویم دا چه ﴿وَعْدًا حَسَنًا﴾ نه مراد وعده دَ تورات دَ ورکیدلو ده۔ حاصل دا چه تاسوخلاف اوکړو دَ وعدے نه (یعنی دَ وعدے انتظارهم اونکړو) دَ دے وجے نه چه موده ډیره شویده نوستاسونه وعده هیره شوه یا هم اراده اوکړه چه دَ اللّٰه تعالیٰ غضب دربانديے نازل شی نوځکه تاسو خلاف اوکړلو۔

[٨٧] یعنی دوی دَ خلاف دَ وعدے دپاره دریمه وجه بیان کړله سیوا دَ هغه دوه وجهونه چه په ړوانديے ایت کښ تیرے شوے دَ دریمے وجے حاصل دا دے چه مونږ لره سامری په مسئلے سره پرهٗ کړلواومجبوره کړو۔ ځکه هغه راته اُوئیل چه تاسو سره دَ قوم فرعون زیورات دی، اودا مال غنیمت دے، اومال دَ غنیمت نه فائده اغستل حلال نه دی (لکه چه دا حکم وؤپه تیرشوی اُمتونوکښ) نوداپه اورسوزول لازم دی نومونږدَ دے ګناه نه ځان دَ بچ کولودَپاره زیورات اورته غورځول اوسامری هم دَ دهوکے ورکولو دَپاره خپل زیورات اورته اوغورځول۔ اودابهانه دَ دے خلقو په حقیقت کښ غلطه وه، دَ دے وجے نه که دَ دے زیوراتو سوزول لازم وے نو موسیٰ علیه السلام ولے دا حکم نه کوؤ چه نبی دَ یوځیز حرمت نوی بیان کړے، نوامّتی له هیڅ اختیار نیشته چه هغه حرام کړی نودوی تقلید اوکړودَسامری په خلاف دَ موسیٰ علیه السلام کښ۔

فائده: ابن کثیر لیکلی دی دے خلقوځان دَ وړوکے ګناه نه (دَ دوی په ګمان کښ) بچ ساتلواو لوئیے ګناه چه دَ عجل عبادت کول وؤدَ هغے نه ئے ځان نه ساتلودا دَ بے عقلو کاردے ﴿زِيْنَةِ﴾ په معنیٰ دَ کالو دے ﴿اَوْزَارًا﴾ نه مراد ګناهونه دی ﴿حُمِّلْنَا﴾ نه مراد ګناه دَ خیانت کولودے ځکه چه تحمیل کله په معنیٰ دَ

يَرَوْنَ اَلَّا يَرْجِعُ اِلَيْهِمْ قَوْلًا ۙ وَّلَا يَمْلِكُ لَهُمْ ضَرًّا وَّلَا نَفْعًا ﴿۸۹﴾ وَلَقَدْ قَالَ لَهُمْ هٰرُوْنُ مِنْ قَبْلُ يٰقَوْمِ اِنَّمَا فُتِنْتُمْ بِهٖ ۚ وَاِنَّ رَبَّكُمُ الرَّحْمٰنُ فَاتَّبِعُوْنِيْ وَاَطِيْعُوْٓا اَمْرِيْ ﴿۹۰﴾ قَالُوْا لَنْ نَّبْرَحَ عَلَيْهِ

پوهیږی چه دا سخے دوی ته نشی ګرځولے هیڅ جواب او نه اختیار لری دوی لره دَ ضرر اونه دَ فائدے ورکولو (۸۹) او یقیناً وئیلی ؤو دوی ته هارون دَ دے نه مخکښ اے قومه زما یقیناً فتنه (شرك) کښ اوغورځولے شوئے په سبب د دے سخی سره او یقیناً ستاسو رب رحمان دے پس زما دَ عمل تابعداری کوئے او اطاعت کوئ دَ خبرے زما (۹۰) دوی اُوئیل همیشه به یو مونږ په دے سخی

خیانت راځی۔

[۸۸] ﴿جَسَدًا﴾ دلالت کوی چه دغه سخے غوښے اوهډوکواووینوته نه ووَ بدل شوے بلکه دَ سروزرو ؤ اوکیدیشی چه دَ اوازکولو دَپاره ئے پکښ څه آله لګولے وه او دا روایت دَ ابن عباسؓ نه مفسرینونقل کړیدے ﴿فَقَالُوْا﴾ اشاره ده، چه دَ سامری نور ملګری هم ؤ اوهغه ټولودَ سخی دَ عبادت کولودعوت شروع کړے ؤ۔ اودوی ورته اِله دَ دے وجے نه وئیل چه اللّٰه تعالیٰ په دے جسد کښ دننه حلول کړیدے او اللّٰه تعالیٰ دَ دے سخی په صورت کښ ښکاره شویدے اودَ سخی نه چاپیره طوافونه اوکړائے کوله او دائے عبادت ګنړلو لکه بعض متصوفه اوس هم ګڼیدل اوغنا کولوته عبادت وائي او وائي چه داچشتیه طریقه ده۔ اودا دَ ټولوحلولیه اتحادیه عقیده ده ﴿فَنَسِيَ﴾ ضمیرد َ نَسِیَ راجع دے موسیٰؑ ته نودا داخل دے لاندے دَ قالوا نه اویا راجع دے سامری ته نودا قول دَاللّٰه تعالیٰ دے چه سامری خپل اله هیرکړے دے۔

[۸۹] په دے ایت کښ رد دے په دغه مشرکینو باندے په نفی کولودَ صفتونودَ الوهیت سره دَسخی نه۔ یو صفت کلام کول اوجواب ورکول دی نو معلومه شوه چه کلام دَ اللّٰه تعالیٰ صفت دے۔ دویم صفت اختیار دَ نفعے اوضرر دے ځکه چه اله حق اختیارمند دَ نفعے او ضرر وی۔

فائده: دا دواړه صفتونه په هغه مرده ګانواولیاؤکښ هم نه دی موجودچه دے خلقو دَ هغوی نه معبودان جوړکړی دی۔ نه خبرے کولے شی اونه جواب ورکولے شی اونه اختیار دَ نفع او ضرر دَ چالرلے شی۔

[۹۰] په دے ایت کښ تذکیرد َ هارونؑ دے قوم خپل ته په ځلورو جملو کښ په اوله جمله کښ رد دے په شرك باندے او اشاره ده چه معامله دَ سامری ټوله فتنه ده اوپه دویمه جمله کښ بیان دَ توحید دے اوپه دریمه جمله کښ امردے په اتباع سره اوپه څلورمه جمله کښ امردے په اطاعت سره اودا خلاصه ده دَ دعوت دَحق اودائے دَدے وجے نه ذکرکړوچه څوك دا استدلال یا اعتراض اونکړی چه هارونؑ مداهنت کړے دے نومعلومه شوه چه مداهنت جائزدے۔

فائده: فرق په مینځ دَ اتباع اودَاطاعت کښ دا دے، چه اتباع په عمل اوپه طریقه کښ ده اواطاعت په وینا اوپه حکم کښ دے یعنی هارونؑ قوم ته اووئیل چه ځما پشاتے عمل کوئ په طریقه دَ توحید سره، اوځما دَحکم اطاعت اوکړئ په شرك پریخودلوسره۔

عٰكِفِيْنَ حَتّٰى يَرْجِعَ اِلَيْنَا مُوْسٰى ﴿٩١﴾ قَالَ يٰهٰرُوْنُ مَا مَنَعَكَ اِذْ رَاَيْتَهُمْ ضَلُّوْٓا ﴿٩٢﴾ اَلَّا تَتَّبِعَنِ ؕ اَفَعَصَيْتَ
اَمْرِيْ ﴿٩٣﴾ قَالَ يَبْنَؤُمَّ لَا تَاْخُذْ بِلِحْيَتِيْ وَلَا بِرَاْسِيْ ۚ اِنِّيْ خَشِيْتُ اَنْ تَقُوْلَ فَرَّقْتَ بَيْنَ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ
وَلَمْ تَرْقُبْ قَوْلِيْ ﴿٩٤﴾ قَالَ فَمَا خَطْبُكَ يٰسَامِرِيُّ ﴿٩٥﴾ قَالَ بَصُرْتُ بِمَا لَمْ يَبْصُرُوْا بِهٖ فَقَبَضْتُ قَبْضَةً

منجوران (عبادت کؤونکی) تردے چه واپس راشی مونږ ته موسیٰ(علیه السلام) (۹۱) اُوئیل موسیٰ(علیه السلام) اے هارون څه څیز منع کړو تاله هرکله چه تا دوی اولیدل چه ګمراه شول(۹۲) چه تا زما تابعداری اونکړه ایا نافرمانی اوکړه تا دَ حکم زمانه (۹۳) اُوئیل هغه اے دَمور ځویه مه نیسه ګیره زما اونه سر زما یقیناً څه ویریدلے یم چه ته به اوائے ډلے دے پیدا کړے په مینځ دَ بنی اسرائیلو کښ او لحاظ دے نکؤو زما دَ خبرے (۹٤) اُوئیل موسیٰ(علیه السلام) څه سبب ؤو (ستا دَ دے کار) اے سامری (۹۵) اُوئیل سامری څه پوهه شوم په هغه څه چه نه دی دوی پوهه په هغے باندے پس راوا مے خستله لږه

[۹۱] دا جواب دے دَقوم دَ طرف نه هارون(علیه السلام) ته ځکه چه دوی هغه کمزورے ګنړهٔ، اودَ موسیٰ(علیه السلام) واپس کیدل ئے شرط کړه۔ ځکه دَ دوی خیال وؤچه موسیٰ(علیه السلام) به په عبادت دَ سخی کښ زمونږه موافقت اوکړی۔

فائده: دَ عکوف معنیٰ دا ده چه یوشے لازم اونیسی، اوهغے ته توجه اوکړی په طریقه دَ تعظیم او دَ عبادت سره دوی هم دَ هغه سخی عبادت او تعظیم شروع کړو او دَ هغے نه به ئے طواف کوو اوګډاپه ئے کوله۔

[۹۲،۹۳] هرکله چه تیرشوو آیتونونه معلومه شوه چه هارون(علیه السلام) هیڅ مداهنت نه دے کړے لیکن موسیٰ(علیه السلام) خبرنه وؤنو دَ غصّے دَ وجے نه دَ هغه سراوږیره ئے اونیول او ځان ته ئے راښکه اوورته ئے اُوئیل هغه خبره چه په دے دواړو آیتونو کښ ده ﴿اَلَّا تَتَّبِعَنِ﴾ دوه معنے دے اوله معنیٰ دا ده چه تا دَ دوی سره جنګ ولے نه کوو یعنی په لاس سره منع کول دِولے نه کول په شانته ځما۔ دویمه معنیٰ دا ده چه تهٔ ولے ځما دَ خبرولودَپاره نه راتلے میقات ته اودَ ﴿اَمْرِيْ﴾ نه مراد هغه دے چه سورة اعراف کښ ذکر کړے شوے دے، په ایت (۱٤۲) کښ۔ اودا زورنه دَ موسیٰ(علیه السلام) بناء وه دَ هغه په اجتهاد باندے ګنی نوهارون(علیه السلام) خپله ذمه واری اداکړے وه۔

[۹٤] په دے ایت کښ بیان دَ عذردے دَ هارون(علیه السلام) په جواب دَ دے قول کښ چه ﴿اَلَّا تَتَّبِعَنِ﴾ یعنی که ما دَ دوی سره قتال کولے یا تا پسے درغلے وے اودوی مے پریخودلے وے نودَ دوی په مینځ کښ افتراق اوډلے پیداکیدے ﴿وَلَمْ تَرْقُبْ قَوْلِيْ﴾ دَ دے جملے دوه احتماله دی۔ اول احتمال دا دے چه دا قول دَهارون(علیه السلام) دے یعنی که بنی اسرائیل ډلے ډلے شوے وے اوما تاته عذرپیش کولے نوتاځما عذرنه قبلولو۔دویم احتمال دادے چه دا داخل دے په قول دَ موسیٰ(علیه السلام) کښ اودَ قَولِی نه مراد هغه دے چه سورة اعراف(۱٤۲) کښ تیرشوے دے۔

فائده: دَ دے ایت نه معلومه شوه چه ږیره اوسردومره ساتل چه نیولے کیدے شی، سنّت دَپیغمبرانودے نوڅوك چه وائي چه دَګیرے مقدارمقررنیشته که هرڅومره ترینه پریکولے شے نوجائزده اودلیل نیسي په حدیث دَسنن ترمذی سره چه نبی(صلی الله علیه وسلم) به دَ خپلے ګیرے دَ اطرفونه اغستل نوهغه حدیث ضعیف دے۔اودَ دے ایت نه هم خلاف دے۔

مِّنْ اَثَرِ الرَّسُوْلِ فَنَبَذْتُهَا وَكَذٰلِكَ سَوَّلَتْ لِيْ نَفْسِيْ ﴿٩٦﴾ قَالَ فَاذْهَبْ فَاِنَّ لَكَ فِي الْحَيٰوةِ اَنْ تَقُوْلَ
لَا مِسَاسَ ۖ وَاِنَّ لَكَ مَوْعِدًا لَّنْ تُخْلَفَهٗ ۚ وَانْظُرْ اِلٰٓى اِلٰهِكَ الَّذِيْ ظَلْتَ عَلَيْهِ عَاكِفًا ۭ لَنُحَرِّقَنَّهٗ
ثُمَّ لَنَنْسِفَنَّهٗ فِي الْيَمِّ نَسْفًا ﴿٩٧﴾ اِنَّمَآ اِلٰهُكُمُ اللّٰهُ الَّذِيْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۭ وَسِعَ كُلَّ شَيْءٍ عِلْمًا ﴿٩٨﴾

دَ نقش قدم دَرسول نه بیامے اوغورځوله او دارنګ خائسته کړے دے ماته نفس زما (٩٦) اُوئیل موسیٰ(علیه السلام) پس ځه (دَ دے قوم نه) پس یقیناً تالره په ژوند دَ دنیا کښ وینا ستا ده چه ماله لاس مه راوړئے او یقیناً (ستا دَ هلاکت) دپاره مقرر وخت دے چه خلاف نشی کیدے ستا دَ هغے نه او اوګوره خپل معبود (جوړ کړے شوی) ته هغه چه ته هر وخت ئے په هغه باندے منجور خامخا اوبه سیزو مونږ دے بیا به ئے او نولو په دریاب کښ په نوستلو سره (٩٧) یقیناً ستاسو حق دار دَ بندګئ اللّٰه تعالیٰ هغه ذات دے چه نیشته واکدار سیوا دَ هغه نه راګیر کړے دے هر څیز لره په علم خپل کښ (٩٨)

[٩٥] مراد دَ دے تپوس نه دا دے چه څه باعث وو په تاباندے اوځه دلیل وو ستا چه سخی نه دے معبود جوړ کړو۔

[٩٦] حاصل دَجواب دا دے چه ماسره هیڅ دلیل نه وؤصرف ځما دَ نفس خبره وه او دارنګ زیاتوالے دَ علم ځما وودَ بنی اسرائیلونه په دے ایت کښ غوره تفسیردا دے چه مراد دَ بصیرت نه علم دے په حقانیت دَ موسیٰ(علیه السلام) اومراد دَ اَثَرِ الرَّسُوْلِ نه تابعداری دَموسیٰ(علیه السلام) ده۔ اومراد دَ قَبضَة نه لږه تابعداری ده اومراد دَ فَنَبَذْتُهَا نه پریخودل دَتابعدارئ دَ موسیٰ(علیه السلام) دی په طریقه دَ مرتدکیدلو سره اوسبب دَ هغے دَ نفس وسوسے دی اوبل قول مشهور دے په نیزدَ مفسیرینو چه مراد دَ مَالَم یَبصُرُوا نه خاوره ده دَلاندے دَ قدم دَاس دَ جبرائیل اودَ هغے نه سامری یوموټے راخستلے وه اوپه سخی کښ اوغورزوله نودَ هغه نه غوښه جوړه شوه اواوازونه ئے شروع کړل لیکن داقول بنادے په اسرائیلی روایتونوباندے چه هغه لیدل دَسامری دی جبرائیل(علیه السلام) لره او دارنګ په عبارت کښ دِیرتقدیر راځی اثرحافر فرس الرسول اودا دَ فصیح کلام سره نه خائیګی اودارنګ دَ سخی نه غوښه جوړیدل هم صحیح ثابت نه دی نومعلومه شوه چه اول قول غوره دے هغه خطیب شربینی اوامام رازی اوآلوسی په خپل تفسیرونو کښ لیکلے دے۔

[٩٧] یعنی موسیٰ(علیه السلام) دهٔ ته اُوئیل چه ځمونږنه جداشه اودَ هیڅا سره به لاس هم نه لګوے، اونه به تاسره ځوك لاس لګوی یعنی بنی اسرائیل ئے منع کړل چه دَ دهٔ سره به هیڅ تعلق نه ساتئ اونه به دَ دهٔ سره خبرے کوئ۔

فائده: دا دلیل دے په دے خبره چه مشرکان اوبدعتیان اوګنهګارو خلقو سره قطع تعلق پکار دے دَپاره دَ دے چه ګناه دَ هغے اثراونکړی په نورو خلقو کښ او دارنګ په تفسیرقرطبی کښ ذکر کړی دی۔

فائده: موسیٰ(علیه السلام) هغه سخے اوسیزهٔ اوایرے دَ هغه ئے دریاب ته اوغورځولے دا دلیل دے په دے خبره چه کوم څیز باندے شرك کړے شوے وی نو دَ هغے نه فائده اخستل نه وی پکار۔

[٩٨] په دے ایت کښ بیان دَتوحید دے په رد دَ هغے کسانوکښ چه عبادت دَ سخی ئے کړے وؤاو رد دَ شرك فی العلم ئے دلیل ذکر کړے دے دپاره دَ رد دَ شرك فی الالوهیة۔

كَذٰلِكَ نَقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ اَنْۢبَآءِ مَا قَدْ سَبَقَ ۚ وَقَدْ اٰتَيْنٰكَ مِنْ لَّدُنَّا ذِكْرًا ﴿٩٩﴾ مَّنْ اَعْرَضَ عَنْهُ فَاِنَّهٗ
يَحْمِلُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وِزْرًا ﴿١٠٠﴾ خٰلِدِيْنَ فِيْهِ ؕ وَسَآءَ لَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ حِمْلًا ﴿١٠١﴾ يَّوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّوْرِ وَنَحْشُرُ
الْمُجْرِمِيْنَ يَوْمَئِذٍ زُرْقًا ﴿١٠٢﴾ يَّتَخَافَتُوْنَ بَيْنَهُمْ اِنْ لَّبِثْتُمْ اِلَّا عَشْرًا ﴿١٠٣﴾ نَحْنُ اَعْلَمُ بِمَا يَقُوْلُوْنَ اِذْ يَقُوْلُ
اَمْثَلُهُمْ طَرِيْقَةً اِنْ لَّبِثْتُمْ اِلَّا يَوْمًا ﴿١٠٤﴾ وَيَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الْجِبَالِ فَقُلْ يَنْسِفُهَا رَبِّيْ نَسْفًا ﴿١٠٥﴾ فَيَذَرُهَا

دغسے بیا نۆو مونږ په تاباندے بعضے دَ خبرو دَ هغے نه چه مخکښ تیرے شویدی او یقیناً درکړے دے مونږ تاته دَ خپل طرف نه یاداشت (قرآن) (۹۹) چاچه مخ اوګرځۆو دَ دے نه پس یقیناً پورته کوی به په ورځ دَ قیامت پیتے دَ ګناه (۱۰۰) همیشه به وی په هغے کښ اوبد دے دا دوی دپاره په ورځ دَ قیامت لوئے بار (۱۰۱) په کومه ورځ چه پوکے اوکړیشی په شپیلئ کښ او راجمع به کړو مونږ مجرمان په دغه ورځ شین سترګی (۱۰۲) خُوس خُوس به کوی په کور نئے کښ چه نه ئے حصار شوی تاسو مګر لس ورځے (۱۰۳) مونږ ښه خبر یو په هغه چه دوی وائی کله چه اوبه وائی هوښیار دَ دوی په رائے کښ نه وئ حصار شوی تاسو مګر یو ورځ (۱۰٤) او(که) ټپوس اوکړی دوی ستانه په باره دَ غرونو کښ نو ورته اُوایه وابه لوڅوی دارب زما په الوڅولو سره (۱۰۵) پس پرے به ګډی دازمکه

[۹۹] دَ دے آیت نه دَ سورة ترآخره پورے دویمه حصه ده۔ په دیکښ تخویف اخروی دے تفصیلا په شپارس وجوهو سره او بشارت دے په (۱۰۹،۱۱۲) کښ، اوترغیب دے قرآن ته اوشجاعت ورکول دی په بیان کولودَتوحید باندے بیا واقعه دَ آدم علیه السلام ده دَ ابلیس سره دَ پاره دَبج کولو دَنسیان نه بیا تخویف اُخروی دے او تخویف دنیوی دے بیا اداب دی دَپاره دَ دعوت سره دَمسئلے دَتوحید نه بیا زجردے اوبیان دَحکمت دے دَ رالیږلودَرسول اوپه اخری آیت کښ تخویف دے۔په دے آیت کښ تشجیع ورکول دی په واقعاتو دَ پیغمبرانوسره اجمالاً چه په هغه ټولوواقعاتوکښ تذکیراوتشجیع مقصد دے هغے ته ذکروئیلے شی دارنګ ذکرپه معنیٰ دَوحی او دَ قرآن سره دے ﴿اَنْبَآءِ﴾مرادترینه غټے غټے خبرے دی ټول جزئیات دَقصوئے نه دی ذکرکړی۔

[۱۰۰نه تر۱۰٤] پورے په دے آیتونو کښ تخویف اُخروی دے دپاره دَ اعراض کونکودَ ذکر دَ قرآن نه۔ ﴿وِزْرًا﴾ غټ بوج ته وائي۔ اوحِملاً مطلق بارته وائي ﴿زُرْقًا﴾ خړوالی دَسترګوته وائي سره دَ تووالی دَ مخ نه او دویمه معنیٰ زُرقًا ړندو ته وائي اودریمه معنیٰ زُرقًا تږوته وائي ﴿اِنْ لَّبِثْتُمْ اِلَّا عَشْرًا﴾ مطلب دا دے چه عام مشرکان دَ ډیر هیبت دَ وجے نه ژوند دَ دُنیا به لس ورځے اوګڼړی، او مشران دَ دوی دَ ډیر هیبت دَ وجے نه یوه ورځ به ئے اوګڼړی ، عَشراً ئے ځکه اووئیل چه دا دَ جمع قلت اخری حد دے ﴿اَمْثَلُهُمْ﴾ غوره او هوښیار دَ دوی دَ هوښیارو په نیز صرف یو ورځ دَ دے وجے نه ده چه ځومره هوښیار وی نو دَ هیبت احساس به ورباندے ډیروی او چه غافل اوکم عقل وی، نوهیبت په هغه باندے لګ وی او مطلب دَ دے ټولودا دے چه زمونږ زمانه او عمر لګ وؤ نو مونږ په کفر اوشرك کولو کښ معذوره یو او دا عذر دے دَ واقع نه خلاف دے۔

قَاعًا صَفْصَفًا ﴿١٠٦﴾ لَّا تَرٰى فِيْهَا عِوَجًا وَّلَآ اَمْتًا ﴿١٠٧﴾ يَوْمَئِذٍ يَّتَّبِعُوْنَ الدَّاعِيَ لَا عِوَجَ لَهٗ ۚ وَخَشَعَتِ
الْاَصْوَاتُ لِلرَّحْمٰنِ فَلَا تَسْمَعُ اِلَّا هَمْسًا ﴿١٠٨﴾ يَوْمَئِذٍ لَّا تَنْفَعُ الشَّفَاعَةُ اِلَّا مَنْ اَذِنَ لَهُ الرَّحْمٰنُ وَرَضِيَ
لَهٗ قَوْلًا ﴿١٠٩﴾ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يُحِيْطُوْنَ بِهٖ عِلْمًا ﴿١١٠﴾ وَعَنَتِ الْوُجُوْهُ لِلْحَيِّ

میدان خویه (١٠٦) نه به وینے ته په هغے کښ ښکته والے اونه ډیرئے (١٠٧) په دغه ورځ به روان به وی دا خلق په بلنه کۆونکی پسے نه به وی کځکلیچ دَ هغه او چپ به شی اوازونه دَیرے دَ رحمٰن نه نونه به آورے ته مګر کشار (١٠٨) په دغه ورځ به نفع نه ورکوی سفارش مګر دَهغه چاچه اجازت ورکړی هغه ته رحمان او رضاوی دَ هغه په وینا (١٠٩) خبردے په هغه حالاتو چه دَ دوی نه وړاندے دی اوهغه چه دَ دوی نه روستو دی اونه شی راګیر ولے دوی هغے (حالاتو لره) په خپل علم کښ(١١٠)اوعاجز به شی ټول مخونه ژوندی

[١٠٥،١٠٦،١٠٧] داهم تعلق لری دَ تخویف اخروی سره او پدیکښ بیانوی حال دَ میدان حشر په ختمیدلو دَ غرونو سره دَمخ دَ زمکے نه۔

فائده: قرآن کریم کښ کوموځایونوکښ چه يَسْئَلُونَكَ ذکردے دَ هغے په جواب کښ ئے (فا) نه ده راوړے اوپه دے ایت کښ ئے راوړے ده وجه دا ده چه دے ایت کښ (ان) شرطیه مراد دے یعنی که دا خلق تپوس اوکړی دَ غرونوپه باره کښ نوته ورته داسے جواب ورکړه۔نومعلومه شوه چه داتپوس منکرینوتردغه وخته پورے نه وؤکړے اوکومو ځایونوکښ چه (فا) نیشته نوهغه تپوسونه واقع شوی وو۔ نومقصد په دے کښ جواب دَوهم دَمنکرینودے که هغوی اُوائي چه قیامت به څرنګ قائم کیږی ځکه غرونه ډیرغټ اوکلك دی نودا به څرنګ فناکیږی نوجواب ئے اوشوپه تفصیل سره ﴿فَيَذَرُهَا﴾دا ظاهراً دلالت کوی چه زمکه به ټوله نه فناکیږی بلکه دَ دے هیئت اوشکل به بدل شی دا قول ډیروعلماؤ غوره کړیدے یا ها ضمیر راجع دے هغه بلے زمکے ته چه روستودَ فنا دَ دے زمکے نه به پیداکړے شی اودغه دَ نورو علماؤ قول دے۔

[١٠٨] مراد دَ داعی نه پیشوا دَقوم دے یعنی پیشوا به نیغ روان وی اوتابعداربه ورپسے وی۔ یا مراد دَ دے داعی نه اسرافیل علیه السلام دے۔ یا مراد دَ داعی نه امرکوؤنکے دے په ورځ دَ قیامت کښ یعنی په هغه ورځ به دوی دَ داعی امراومنی لیکن نن ئے نه منی دا قول ابن کثیر ذکر کړیدے ۔ او لفظ دَ لَهٗ په معنیٰ دَ عَنهُ دے یا لَهٗ ضمیر په اعتبار دَ کل واحد سره دے ﴿هَمْسًا﴾ اواز دَ قدم اخستلوته وائي یا ساه اخستلو ته وائي دواړه قولونه صحیح دی۔

[١٠٩] په دے ایت کښ رد دَ شفاعت قهریه دے اوقولاً نه مرادکلمه دَ توحید ده۔ دَ ایت یومطلب دا دے چه ﴿مَنْ اَذِنَ لَهُ الرَّحْمٰنُ﴾ نه مراد شفاعت کوونکے دے اوالشفاعة په معنیٰ دَ شفاعة احد دے الاشفاعة من آه۔ یا مراد دَ دے نه هغه څوك دے چه هغه دَپاره شفاعت کیږی اودَ لفظ دَمَن نه مخکښ حرف دَ(ل) پټ دے اوپه عبارت کښ تقدیردے الشفاعة لاحد الا لِمن اذن۔

[١١٠] دا دلیل دے دَتیرشوی ایت یعنی دا شفعاء بے اجازته شفاعت نشی کولے ځکه چه اللّٰه تعالیٰ دَ

الْقَيُّوْمِ ؕ وَقَدْ خَابَ مَنْ حَمَلَ ظُلْمًا ﴿١١١﴾ وَمَنْ يَّعْمَلْ مِنَ الصّٰلِحٰتِ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَا يَخٰفُ ظُلْمًا
وَّلَا هَضْمًا ﴿١١٢﴾ وَكَذٰلِكَ اَنْزَلْنٰهُ قُرْاٰنًا عَرَبِيًّا وَّصَرَّفْنَا فِيْهِ مِنَ الْوَعِيْدِ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ
اَوْ يُحْدِثُ لَهُمْ ذِكْرًا ﴿١١٣﴾ فَتَعٰلَى اللّٰهُ الْمَلِكُ الْحَقُّ ۚ وَلَا تَعْجَلْ بِالْقُرْاٰنِ مِنْ قَبْلِ اَنْ يُّقْضٰٓى اِلَيْكَ
وَحْيُهٗ ۫ وَقُلْ رَّبِّ زِدْنِيْ عِلْمًا ﴿١١٤﴾ وَلَقَدْ عَهِدْنَآ اِلٰٓى اٰدَمَ مِنْ قَبْلُ فَنَسِيَ وَلَمْ نَجِدْ لَهٗ عَزْمًا ﴿١١٥﴾ وَ

راتپینګونکی ته او یقیناً نا امیده دی (دَهر خیرنه) هغه څوك چه اوچت ئے کړو په ځان (پیټے) دَ شرك (۱۱۱) او چاچه عمل اوکړو دَ نیك عملونونه اوحال دا چه دے مؤمن وُو نونه یریګی به دَزیاتی نه اونه دَکمی نه (۱۱۲) او دغسے نازل کړے دے مونږ دا قرآن صاف بیان والا او قسم قسم بیان کړیدی مونږ په دے کښ عذابونه دَ دے دپاره چه دوی بچ شی یابه پیدا کړی دوی لره یاداشت (۱۱۳) نو اوچت دے اللّٰه تعالیٰ چه بادشاه حق دے اوتادی مکوه په قرآن سره مخکښ دَ دے نه چه پوره کړیشی تاته وحی دَ دهٔ اووایه اے ربه زیاتی کړے زما علم(۱۱٤) او یقیناً حکم کړے وُو مونږ آدم(علیه السلام) ته مخکښ دَ دے نه نو هغه هیر کړو اونه وُو موندلے مونږ دهٔ لره قصد کول (دَ ګناه) (۱۱۵) او

دوی په حال اوپه عجزباندے عالم دے۔په دے کښ اثبات دَ صفت دَعلم دے اللّٰه تعالیٰ لره اورد دَ شرك فی العلم دے۔ بِهٖ ضمیر راجع دے ماحرف ته۔

[۱۱۱] دا هم دلیل دے دَ مخکښ چه دوی بلا اجازته شفاعت نشی کولے ځکه چه په ورځ دَ قیامت به ټول اللّٰه تعالیٰ ته عاجزوی اوداهم په تخویف کښ داخل دے ﴿اَلْوُجُوْهُ﴾ نه مراد مخونه اوتندی دی یا مراد دَ دے نه لوئے لوئے خلق دی اودَ ظلمًا نه مراد په دے ایت کښ شرك دے۔

[۱۱۲] دے ایت کښ بشارت دے۔ او فرق په مابین دَ ظلمًا اودَ هَضمًا کښ دا دے چه ظلم ټول حق منع کولو ته وائی او هضم منع کول دَ بعض حق نه، یا ظلم نه مراد زیاتے کول دی په ګناهونوکښ او مراد دَ هضم نه کمول دَ نیکودی او ظلم په لغت کښ دَ اضدادو نه دے په معنیٰ دَ زیاتی اوکمی دواړو سره استعمالیږی۔

[۱۱۳] دے ایت کښ ترغیب دے قرآن ته، اوپه دے کښ دَ قرآن پاك دوه فائدے ذکردی۔ په طریقه دَمانعة الخلو سره یعنی دَ دے دواړوفائدونه به خالی نه وی اوجمع دَ دواړو فائدو هم امکان لری۔ اودواړو فائدوکښ فرق دادے چه دَ تقویٰ نه مراد عمل کول دی په قرآن دَ وجے دَ یرے دَ عذاب دَ اللّٰه تعالیٰ نه۔ او دَ احداث ذکر نه مراد وعظ قبلول دی، په وجه دَ رغبت سره یا مراد دَ تقویٰ نه شرك، کفراوګناهونه پریخودل دی او مراد دَ ذکرنه توحید او ایمان او طاعات پیداکیدل دی۔

[۱۱٤] پدے ایت کښ اول بیان دَ توحید دے چه هغه نتیجه ده دَ صدق دَ قرآن چه مخکښ ایت کښ ذکرشواوپه دے ایت کښ اثبات دَعلودے دپاره دَاللّٰه تعالیٰ اوبیا بیان دَادب دَلوستلودَقرآن دے اودَ دے ادب اول مطلب دا دے چه هرکله جبرائیل(علیه السلام) قرآن نازلوی دَ هغه دَ فارغ کیدلو نه مخکښ تلوارمکوه په قرآن لوستلوکښ۔ اوداسے په سورة قیامه کښ هم ذکردی۔ او دویمه معنیٰ دَ ادب دا ده چه څودَ قرآن په مراد باندے نه ئے پوهه نودَ هغے نه مخکښ ئے مه بیانوه۔ نومراد دَ وحی نه بیان او تفسیردَ هغے دے۔ اودا معنیٰ هم قرطبی دَ مجاهدنه نقل کړیده۔ اوپه اخر دَ ایت کښ تعلیم دَ دُعادے دپاره دَ زیاتوالی دَعلم چه وحی ده

إِذْ قُلْنَا لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوا لِاٰدَمَ فَسَجَدُوٓا إِلَّآ إِبْلِيسَ ط اَبٰى ﴿١١٦﴾ فَقُلْنَا يٰٓاٰدَمُ إِنَّ هٰذَا عَدُوٌّ لَّكَ
وَلِزَوْجِكَ فَلَا يُخْرِجَنَّكُمَا مِنَ الْجَنَّةِ فَتَشْقٰى ﴿١١٧﴾ إِنَّ لَكَ اَلَّا تَجُوعَ فِيهَا وَلَا تَعْرٰى ﴿١١٨﴾ وَ اَنَّكَ
لَا تَظْمَؤُا فِيهَا وَلَا تَضْحٰى ﴿١١٩﴾ فَوَسْوَسَ إِلَيْهِ الشَّيْطٰنُ قَالَ يٰٓاٰدَمُ هَلْ اَدُلُّكَ عَلٰى شَجَرَةِ

کوم وخت چه اُوئیل مونږ ملائکوته سجده اوکړئ آدم ته پس سجده اوکړه دوی مګر ابلیس انکار اوکړو (۱۱۶) نو اُوئیل مونږ اے آدم یقیناً دا دُشمن ستا دے او ستا دَ بی بی پس اونه باسی تاسو دواړه دَ جنت نه پس په تکلیف به شئ (۱۱۷) یقیناً تالره ده (مخکښ دَ ابلیس دَ وسوسے منلونه) چه نه به اوګے کیږے په دے کښ او نه به بر بنډیږے (۱۱۸) او یقیناً ته نه به تږے کیږے په دے کښ او نه به دے ګرمی کیږی (۱۱۹) پس لمسه اوکړه هغه ته شیطان اُوئیل ئے اے آدم ایا اوښایم تاته وَنه

دا دلیل دے پدے خبره چه نبیﷺ زیاتوالی دَ علم ته محتاج وونوامت دَ هغه ضرور محتاج دے اودَ دے نه مغلومه شوه چه علم دَپیغمبرانو کُلیّ اومحیط نه دے ځکه چه زیاتوالی ته محتاج دے اودا دلیل دے په فضیلت دَعلم باندے ځکه چه اللّٰه تعالیٰ دَ هغے دَ زیادت دُعا خودلے ده او هرکله چه نبیﷺ دا دُعا لوستله دَدے وجے نه په هغه باندے تروفات پورے وحی نازلیدله اوداپه حدیث دَ مسلم کښ وارد دی۔

[۱۱۵] پدیکښ ابتداء دَواقعے دَ آدمؑ ده اوبیان دَ عذرد آدمؑ دے۔ اوربط دَ ایت دَ مخکښ سره دا دے چه مخکښ ایت کښ ترغیب ووپه باره دَ قرآن کښ نو په دیکښ تحذیردے (یره ورکول) دَ نسیان نه په شان دَ آدمؑ اوعزم په معنیٰ دَ قصد سره دے یعنی آدمؑ قصد دَ ګناه نه وؤکړے۔ دلته نسیان په خپله معنیٰ حقیقی سره دے په معنیٰ دَ ترك سره نه دے اوابن کثیردا روایت دَ ابن عباسؓ نه په نقل دَ سعید بن جبیراو ابن ابی طلحه سره راوړے دے اوهرکله چه نسیان پخپله معنیٰ سره دے نودا دلالت نه کوی په ګناه کولو دَ آدمؑ باندے۔

[۱۱۶] تشریح دَ سجدے او انکار دَ ابلیس په سورة بقره اواعراف اوحجراوکهف کښ تیرشویدے۔

[۱۱۷] په دے ایت کښ تنبیه ده آدمؑ ته په دُشمنئ دَ ابلیس سره اومنع ده دَهغه دَ تابعداریځ نه چه سبب ګرځی دَجنت نه دَوتلودَپاره اوسبب ګرځی دَ پاره دَ شقاوت (بدبختئ) اودَپاره دَ مشقت۔ ﴿فَتَشْقٰى﴾ دَمشقت نه ماخوذ دے دَ دنیا مشقتونواوتکالیفوته اشاره ده دا دَ شقاوة نه ماخوذ نه دے۔

[۱۱۸،۱۱۹] په دے ایتونوکښ څلورنعمتونه دَجنت ذکردی لیکن دا مشروط دی په دے شرط سره چه دَحکم دَاللّٰه تعالیٰ نه خلاف اونکړی۔ اول نعمت دادے چه په جنت کښ لوږه نیشته۔ اودویم نعمت دا دے چه برښلو کیدل نیشته دا دواړه ئیے یو ځائے ذکرکړل ځکه چه دَجوع تعلق دَباطن سره دے اودَ برښلووالی تعلق دَظاهرسره دے اودواړه ذلت دے۔ اودارنګ اول حاجت دَ انسان طعام او بیاجامے ته دے۔ او دریم نعمت دا دے چه جنت کښ تنده نیشته اوخلورم دا دے، چه ګرمی نیشته، اودَ دے اول تعلق دَباطن سره دے او دَ دویم تعلق دَظاهرسره دے اودواړه ګرمی ده نوځکه ئیے یوځائے ذکرکړل۔اوسبب دَترتیب دَ دے څلورودا دے چه انسان اول دَطعام طلب کوی اوبیا دَجامے طلب کوی، بیا اوبوطلب کوی، بیا دَګرمئ نه دَبچ کیدلو طلب کوی۔

الْخُلْدِ وَمُلْكٍ لَّا يَبْلٰى ﴿١٢٠﴾ فَاَكَلَا مِنْهَا فَبَدَتْ لَهُمَا سَوْاٰتُهُمَا وَطَفِقَا يَخْصِفٰنِ عَلَيْهِمَا مِنْ
وَّرَقِ الْجَنَّةِ ۛ وَعَصٰٓى اٰدَمُ رَبَّهٗ فَغَوٰى ﴿١٢١﴾ ثُمَّ اجْتَبٰهُ رَبُّهٗ فَتَابَ عَلَيْهِ وَهَدٰى ﴿١٢٢﴾ قَالَ اهْبِطَا

دَ همیش والی او دَ بادشاهئ چه نه به زړیږی (۱۲۰) نو اوخوړو دے دواړو دَ دغه ونے نه پس بنکاره شول دوی ته عورتونه دَ دوی اوشروع شول لګولے ئے په ځان باندے دَ پانړو دَ جنت نه اوخلاف اوکړو آدم دَ حکم دَرب نه (په هیره سره) نو مرادته اونه رسیدو(۱۲۱) بیا غوره کړودهٔ لره رب دَ دهٔ نو رحمتونه ئے پرے را اوګرځول او کلك ئے کړو(۱۲۲) اُوئیل اللّٰه تعالٰی کوزشئ

فائده: په جنت کښ ګرمی اویخنی دواړه نیشته لیکن دَګرمئی تکلیف زیات اوعام وؤنوځکه ئیے هغه خاص ذکر کړو۔

[۱۲۰] په دیکښ وسوسه ده په دوو طریقو سره اول دا چه دَ دے ونے په خوراك سره همیشوالے حاصلیږی یعنی دَمرګ نه به بچ شے۔ دویم دا چه په دے سره هغه نعمتونه حاصلیږی یعنی چه دَ هغے فنا نیشته۔ یعنی ته به هم همیشه شے اونعمتونه به هم همیشه وی اوشجرة الخلدپه حقیقت کښ په جنت کښ بله ونه وه چه ابن کثیر په روایت دَ احمد سره ذکرکړیده اوشیطان په دروغه سره دے شجرے (چه آدمعليه السلام ترینه منع شویوؤ) ته دانوم کیخودلو۔

[۱۲۱] لفظ دَ سوأة اوخصف کول صریح دلیل دے چه دَ هغوی نه لباس لرے شواوبربنډ شول اوعورتونه ئے بنکاره شول لیکن تثنیه په مقابل دَتثنیه تقاضاکوی چه هریوته خپل عورت بنکاره شودَ بل دَ عورت دَ لیدلودلیل نیشته اودا عیب نه دے لیکن دَ طبع نه خلاف دے اودَ دے صریح الفاظو تاویل کول اوداسے وئیل چه دَ جنت یونیفارم ترینه لرے شواونورے جامے ورپورے وے اوسوءة په معنٰی دَ نقصاناتوسره ده دا تحریف دے۔ عصیان مخالفت دَ امرته وائي، که قصد سره وی، اوکه په هیرے سره وی، هرکله چه قصدا وی نو هغه ګناه ده، اوچه په هیره وی نوګناه نه ده، اومخالفت دَ آدمعليه السلام په هیرے سره وو، نودا دلیل نه دے دَ هغه په ګهنګارکیدلواوغوایت په معنیٰ دَ محروم کیدودے دَ مقصدنه یعنی آدمعليه السلام چه په سبب دَ وسوسے دَ ابلیس سره خوراك دَ ونے دَکوم مقصد دَپاره اوکړونوهغه مقصد ورته حاصل نهٔ شو۔ امام قرطبی په خپل تفسیرکښ دوه ضروری خبرے لیکلی دی اوله داچه هیڅاله دانه دی جائزچه دَ آدمعليه السلام په باره کښ په طریقه دَ اخبار مستقل سره دا جمله استعمالوی مګرهغه وخت جائزده چه تلاوت دَ قرآن کوی، یا حدیث نقل کوی، دویمه خبره دا ده چه هیڅاله دانه دی جائزچه داسے او وائي چه آدمعليه السلام عاصی یا غاوی وؤ ځکه چه صیغه دَ فعل مستلزم نه ده اطلاق دَ اسم فاعل لره۔

[۱۲۲] مراد دَ اجتباه اودَ هدایت نه ترقی دَ مرتبے ده اوکلکول دی دا دلیل نه دے په دے خبره چه دا کار ادمعليه السلام دَ نبوت نه مخکښ کړے وو لکه چه معتزله وائي۔

مِنْهَا جَمِيْعًا بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ ۚ فَاِمَّا يَاْتِيَنَّكُمْ مِّنِّيْ هُدًى ۙ فَمَنِ اتَّبَعَ هُدَايَ فَلَا يَضِلُّ وَلَا يَشْقٰى ﴿١٢٣﴾ وَمَنْ اَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِيْ فَاِنَّ لَهٗ مَعِيْشَةً ضَنْكًا وَّنَحْشُرُهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اَعْمٰى ﴿١٢٤﴾ قَالَ رَبِّ لِمَ حَشَرْتَنِيْٓ اَعْمٰى وَقَدْ كُنْتُ بَصِيْرًا ﴿١٢٥﴾ قَالَ كَذٰلِكَ اَتَتْكَ اٰيٰتُنَا فَنَسِيْتَهَا ۚ وَكَذٰلِكَ الْيَوْمَ تُنْسٰى ﴿١٢٦﴾ وَكَذٰلِكَ نَجْزِيْ مَنْ اَسْرَفَ وَلَمْ يُؤْمِنْ بِاٰيٰتِ رَبِّهٖ ۭ وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ اَشَدُّ وَاَبْقٰى ﴿١٢٧﴾ اَفَلَمْ

دَ دے ځائے نه ټول بعضے ستاسو دَ بعضو دُشمنان به وی پس که چرے راغے تاسو ته زما دَ طرف نه هدایت پس چاچه تابعداری اوکړه دَ هدایت زما پس نه به بے لارے کیږی اونه به بدبخت کیږی (۱۲۳) او چاچه مخ واړوو دَ یاداشت زمانه پس یقیناً هغه لره ژوند تنګ دے او راپورته به کړو دے په ورځ دَ قیامت ږوند (۱۲٤) اوبه وائی اے ربه ولے راپورته کړو تا مالره ږوند او حال داچه ځه ووم لیدونکے (۱۲۵) اوبه وائی الله تعالیٰ دغسے راغلی ؤو تاته اٰیاتونه زمونږ نوهیر کړه تا هغے لره او دارنګ به نن ته هیرکړے شے (۱۲٦) او دغسے سزا ورکؤو مونږ هغه چاته چه دَ حدنه تیر شویدے (په شرك کولو سره) او ایمان ئے نه دے راوړے په اٰیاتونو دَ رب خپل اوخامخا عذاب دَ اٰخرت ډیر سخت دے او همیشه دے (۱۲۷) اٰیا پس نه ده

[۱۲۳] غوره دا ده چه خطاب په دے اٰیت کښ آدم علیه السلام اوابلیس دواړو ته دے اوحواء تابع دَ آدم علیه السلام ده ځکه چه روستو جمله دَ دے دلیل دے۔

فائده: سورة اعراف کښ اول اهبط ذکرشوے وؤ دپاره دَ ابلیس اوهغه دَ هبوط نه مخکښ وسوسه اوکړه بیا الله تعالیٰ دواړه مخاطب کړل په دے اٰیت کښ اوکوم ځائے چه جمع ذکرکړے ده هغه دَ دے وجے نه چه حواء علیها السلام پکښ داخل ده اوعبد الله بن عباس رضی الله عنه نه روایت دے چه دا اٰیت دَ فمن تبع نه قرآن والاته هم شامل دے ځکه چه هدی کښ ټول رسولان اودَ هغوی کتابونه داخل دی۔ فرمائیلی ئے دی چه چا قرآن اولوستلواوتابعداری ئے اوکړه دَ هغے نوبچ به شی دَ ګمراهئی نه په دنیا کښ او دَ بدبختئ نه په اٰخرت کښ۔

[۱۲۵،۱۲٤] په دے آیت کښ تخویف دے اودَ ذِکرِ نه مراد کتاب الله اودین حق اوسنت دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم دے لکه دیته اشاره کړیده تفسیرالقرطبی۔ اودَ تنګ ژوند نه مراد دَ دنیا ژوند دے یا عذاب قبرد ے اوداروستو روایت کړے شویدے دَ ابوسعید خدری اوعبد الله بن مسعود اوابو هریرة رضی الله عنهم نه اوپه لفظ دَمعیشة کښ اشاره ده سامان دَ خوراك سكاك اومزے دَ دنیا به وی لیکن زړه به ئے تنګ وی په پریشانے اوغمونوسره اوقبربه ئے هم تنګ وی۔ اودَ ږوندنه مراد بے دلیله سړے دے اودَ بَصِیرنه مراد خاوند دَ دلیل دے په خپل ګمان سره یعنی اګرچه په دنیاکښ باطل دلیلونه ئے پیش کول لیکن په ورځ دَقیامت هغه هم نشی پیش کولے لکه چه ذکرشوی سورة قصص اٰیت نمبر(٦٦) کښ اوسورة اسراء اٰیت نمبر(۷۲) کښ اویا مراد دَ ږوند نه حقیقتاً ږوند دے لکه سورة اسراء اٰیت (۹۷) کښ لیکن دا ږوندوالے په یوخاص حالت کښ به وی نه به وی همیشه لکه سورة ق اٰیت (۲۲) کښ۔

[۱۲٦] په دے اٰیت کښ ذکرکړے دے سبب دَ تیرشوی عذاب اومراد دَ نسیان نه ترك دے (پریخودل قصداً۔)

يَهْدِ لَهُمْ كَمْ اَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ مِّنَ الْقُرُوْنِ يَمْشُوْنَ فِيْ مَسٰكِنِهِمْ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّاُولِي النُّهٰى ﴿١٢٨﴾
وَلَوْ لَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِنْ رَّبِّكَ لَكَانَ لِزَامًا وَّ اَجَلٌ مُّسَمًّى ﴿١٢٩﴾ فَاصْبِرْ عَلٰى مَا يَقُوْلُوْنَ وَسَبِّحْ
بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ غُرُوْبِهَا ۚ وَمِنْ اٰنَآئِ الَّيْلِ فَسَبِّحْ وَاَطْرَافَ النَّهَارِ لَعَلَّكَ
تَرْضٰى ﴿١٣٠﴾ وَلَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ اِلٰى مَا مَتَّعْنَا بِهٖۤ اَزْوَاجًا مِّنْهُمْ زَهْرَةَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۙ لِنَفْتِنَهُمْ

سکاره شوے دوی ته چه څومره هلاك کړی دی مونږ مخکښ ډ دے نه ډ پیړونه چه ګرځی دوی په کورونو ډ هغوی کښ یقیناً په دے کښ خامخا نښے دی عقلونو والولره (۱۲۸) او که نه وے فیصله چه ړوانده ده ستا ډ رب ډ طرف نه خامخا ؤو به عذاب لازم او که نوے نیټه مقرر (۱۲۹) پس صبر کوه په هغه باندے چه دوی ئیے وائی او تسبیح وایه سره ډ حمد ډرب ستانه مخکښ ډ ختلو ډ نمر نه او مخکښ ډ پټیدلو ډ هغے نه او ډ وختونو ډشپے نه پس تسبیح اوایه او ډغارو ډ ورځ نه ډ دے دپاره چه ته خوشحاله شے (۱۳۰) اومه اوګډوه سترګے خپلے هغے سامان ډ دُنیا ته چه ورکړے دے مونږ مالدارانوته ډ دوی نه دپاره ډ ډول ډ ژوند دُنیوی دپاره ډ دے چه ازمیښت اوکړو مونږ ډ دوی

[۱۲۷] په دے ایت کښ ذکرډتعمیم ډعذاب دے هر مشرك ته ځکه چه مراد ډ اسراف نه شرك کول دی۔ ﴿وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ اَشَدُّ وَ اَبْقٰى﴾ نه مراد دادے چه عذاب ډ اخرت ډیرسخت دے په نسبت ډعذاب ډ دنیا اوډعذاب ډ قبرنه اوهمیشه باقی دے ځکه چه عذاب ډ دنیا او ډ قبرهمیشه نه وی۔

[۱۲۸] په دے ایت کښ تخویف دنیوی دے سره ډ زجر نه یَهدِنه مراد هدایت ډ عقل دے چه دوی ډ عقل نه کارنه اخلی چه مخکښی قومونه په څه سبب سره هلاك شویدی۔

[۱۲۹]په دے کښ هم تخویف دے اومراد ډ کلمے نه مهلت ورکول دی ډ عذاب چه په تقدیر کښ ئے لیکلے یا دافیصله چه بغیرډ الزام ډ حجت نه عذاب نه ورکوی۔

[۱۳۰] په دے ایت کښ تشجیع ده په صبرکولوسره اوپه بیان ډ توحید سره ﴿وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ﴾ ډ دے نه مراد عقیده ډ توحید ده په زړه کښ اوذکرډ تسبیح اوډحمد دے په ژبے سره اوعمل ډ تسبیح اوډ حمد دے چه هغه مونځ کول دی۔اوپه دے ایت کښ پنځه اوقات ډ مونځونوذکرکړے شوی دی ځکه چه ډ نمرختلونه وړاندے مونځ ډفجردے اوډپټیدلوډ نمرنه وړاندے مونځ ډمازیګردے اوډ اوقاتو ډ شپے نه مراد مونځ ډ مابنام اوډ ماسختن دے اوډ اطراف النهارنه مراد مونځ ډ ماسپښین دے ځکه چه وخت ډ ماسپښین اخری طرف ډ اول نصف دے۔ او اول طرف ډ اخری نصف دے نودے په دووطرفوکښ شواومراد ډ جمعے نه اطراف دوه دی ﴿لَعَلَّكَ تَرْضٰى﴾ دا دلیل دے چه عمل کول په دے ایت باندے سبب ډ خوشحالئ دے۔ اوپه دے ایت کښ ډ دعوت کوونکی ډپاره درے اداب ذکرشول۔

فِيْهِ ؕ وَرِزْقُ رَبِّكَ خَيْرٌ وَّاَبْقٰى ﴿١٣١﴾ وَاْمُرْ اَهْلَكَ بِالصَّلٰوةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا ؕ لَا نَسْـَٔلُكَ رِزْقًا ؕ
نَحْنُ نَرْزُقُكَ ؕ وَالْعَاقِبَةُ لِلتَّقْوٰى ﴿١٣٢﴾ وَقَالُوْا لَوْلَا يَاْتِيْنَا بِاٰيَةٍ مِّنْ رَّبِّهٖ ؕ اَوَلَمْ تَاْتِهِمْ بَيِّنَةُ مَا
فِي الصُّحُفِ الْاُوْلٰى ﴿١٣٣﴾ وَلَوْ اَنَّاۤ اَهْلَكْنٰهُمْ بِعَذَابٍ مِّنْ قَبْلِهٖ لَقَالُوْا رَبَّنَا لَوْلَاۤ اَرْسَلْتَ اِلَيْنَا رَسُوْلًا
فَنَتَّبِعَ اٰيٰتِكَ مِنْ قَبْلِ اَنْ نَّذِلَّ وَنَخْزٰى ﴿١٣٤﴾ قُلْ كُلٌّ مُّتَرَبِّصٌ فَتَرَبَّصُوْا ۚ فَسَتَعْلَمُوْنَ مَنْ اَصْحٰبُ
الصِّرَاطِ السَّوِيِّ وَمَنِ اهْتَدٰى ﴿١٣٥﴾ ع ١٤

په هغے کښ او روزی ډَرب ستا غوره ده اوهمیشه ده (۱۳۱) اوحکم کوه خپلو تابعدارو ته دَمونځ کولو او کلك شه په هغے باندے ذمه وار نه ګرځوو مونږ تالره دَ روزئ مونږ تالره روزی درکوو او اخری خوشحالی د پاره دَ تقویٰ والا ده (۱۳۲) او دوی وائی ولے نه راوړی دے مونږ ته نخه دَ طرفه ډَرب دَ هغه نه ایا نه دے راغلے دوی ته صفا بیان دَ هغه چه په صحیفو مخکښنو کښ ؤو (۱۳۳) اوکه چرته هلاك کړے وے مونږ دا خلق په عذاب سره مخکښ دَ رالیږلو دَ دے رسول نه خامخا دوی به وئیلی ؤو اے ربه زمونږ ولے تانه رالیږلو مونږ ته رسول پس چه تابعداری کړے وے مونږ دَ ایا تونو ستا مخکښ دَ ذلیل کیدلو او رسوا کیدلونه (۱۳٤) ته اُوایه هر یو انتظار کؤونکے دے نوتاسو هم انتظار کوئے زردے چه تاسو به خبر شئ چه څوك دی خاوندان دَ لارے برابر اوڅوك دی هدایت والا (۱۳۵)

[۱۳۱] په دے ایت کښ تزهید فی الدنیا دے اودا څلورم ادب دے مراد دا دے چه دَ دنیا دارومالونوته پسخیدل سبب دَ غفلت دے دَمانځه نه ﴿اَزْوَاجًا﴾ هغه مالداران چه یوبل ته په مالدارئے کښ نزدے دی او مشابه دی په دنیاپرستئ کښ ﴿رِزْقُ رَبِّكَ﴾ مراد دَ دے نه رزق حلال دَ دنیا دے اوابقیٰ معنیٰ داچه دَهغے برکات به همیشه وی یامراد دَ دے نه رزق دَجنت دے۔

[۱۳۲] په دیکښ ذکردَ پنځم ادب دے۔ اودَ اهل نه مراد ټول تابعداردی ﴿لَانَسْئَلُكَ رِزْقًا﴾ نه مراد دادے چه مونږهٔ ته ذمه واردَ رزق نه ئے ګرځولے چه په سبب دَ هغے سره غفلت راځی دَمونځ کولونه ﴿وَالْعَاقِبَةُ لِلتَّقْوٰى﴾ په دے کښ اشاره ده چه په دے پنځو ادابوباندے عمل کول تقویٰ ده ﴿لِلتَّقْوٰى﴾ لام اجلیه دے یا مراد دَ دے نه لِاَهلِ التقویٰ دے۔ العاقبه په لغت کښ مطلق اخری حالت ته وئیلے شی لیکن په عرف کښ په معنیٰ دَ خائسته آخری حالت سره دے۔

[۱۳۳] په دے ایت کښ زجردے منکرینوته یعنی هرکله چه په دے سورة کښ بیان شوه معجزه دَ موسیٰ علیه السلام نومشرکینو مطالبه اوکړه دَ رسول اللّٰه ﷺ نه چه مونږله دغسے معجزات رواړه نودَهغے جواب ورکړے شو۔حاصل دَ جواب دا دے چه قرآن کریم دَمخکنو کتابونو الٰهیوخلاصه ده نودامعجزه دَټولو معجزاتونه کامله ده لکه په سورة عنکبوت ایت یوپنځوس (۵۱) کښ ذکردی۔ اوپه دے ایت کښ اشاره ده چه دَ قرآن یونوم بینه ده اودارنګ معلومه شوه چه قرآن خلاصه دَمخکنو کتابونوده۔

[۱۳٤] په دے ایت کښ جواب دے دَ بل سوال۔ سوال دا وو چه دا خلق دَ مخکښ نه مشرکان وونوپه دوی باندے عذاب ولے نه راتلو۔ حاصل دَ جواب دادے که دَ رسول دَ رالیږلونه مخکښ عذاب رالیږلے شوے

سُوْرَةُ الْاَنْبِيَآءِ (۲۱) مَكِّيَّةٌ (۱۰۳) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۱۱۲ رُكُوْعَاتُهَا ۷

اِقْتَرَبَ لِلنَّاسِ حِسَابُهُمْ وَهُمْ فِيْ غَفْلَةٍ مُّعْرِضُوْنَ ۝١ مَا يَاْتِيْهِمْ مِّنْ ذِكْرٍ مِّنْ رَّبِّهِمْ مُّحْدَثٍ

الجزء السابع عشر (۱۷)

ډیر نزدے راغے خلقوته حساب دَهغوی او دوی په غفلت کښ دی مخ ګرځوونکی دی (۱) نه راځی دوی ته څه یاداشت دَ طرفه دَرب دَ دوی نه نوے

(بقیه تفسیر دَ سورة طٰه) وے نودوی به عذر اوبهانه پیش کولے لیکن اللّٰه تعالیٰ دَچا عذرپه ځان باندے نه پریږدی لکه سورة النساء ایت (۱٦٥) اوسورة قصص ایت (٤٧) کښ چه څنګه ذکردی نوپه دے ایاتونوکښ ذکرکړے دے حکمت دَ ارسال رسل اوانزال دَکتب الٰهیو ﴿مِنْ قَبْلِ اَنْ نَّذِلَّ﴾ دا دلیل دے چه سبب دَ ذلت اودَ رسوائے دَکتاب اللّٰه نه خلاف کول دی۔

[۱۳۵] په دے ایت کښ تخویف دنیوی دے یعنی هرکله چه رسول راولیږلے شواوبیا هم تاسوانکارکوئ نواوس دَ عذاب انتظار اوکړئ۔ او په ایت کښ اشاره ده دے خبرے ته چه دَ عذاب دَ دنیا نه بچ کیدونکی هغه خلق دی چه لارے ئے صحیح وی یعنی لار دَ قرآن او دَ حدیث او مقصد ئے صحیح لارے ته رسیدل وی یعنی توحید او سنت ته۔

سورة الانبیآء

ربط دَ دے سورة دَ سورة طٰه سره: هغه سورة کښ تذکیر او تشجیع وه په ذکر دَ موسیٰ علیه السلام نو په دے سورة کښ تذکیر دے په واقعاتودَ نورو انبیاء علیهم السلام سره۔

دعویٰ دَ دے سورة: تذکیردَ غافلینوپه شپږ وجوه سره۔ اوله وجه: ذکردَ اولس، انبیاء علیهم السلام تفصیلاً چه دوی محتاج وؤ اوعاجزی کونکی وؤ اللّٰه تعالیٰ ته اواجمالاًپه (۲۵) کښ۔دویمه وجه: رد دَ ځلوروقسمونودَ شرك او رد په عقیده دَ اتخاذالولد باندے اوشفاعت قهریه باندے په اولس آیاتو نو کښ۔ دریمه وجه: عقلی دلیلونه شپږ۔ځلورمه وجه: پؤولس زجرونه منکرینوته۔پنځمه وجه: ذکردَ تعبیراتودَ غفلت اته او لفظ دَ ذکرهم اته کرته۔شپږمه وجه: اسماء حسنیٰ اته۔

خلاصه دَ سورة: په دے کښ پنځه بابونه دی اول باب تر(۱۵) پورے دے پدیکښ تخویف دے سره دَ زجرنه په ذکردَ شپږو مرتبودَغافلینو۔ غفلت، اعراض، لعب، لهوالقلب، النجویٰ، ظلم اوشپږطعنونه دَ دوی په رسول باندے، بشریت، سحر، اضغاث احلام، افتراء، شعر، طلب دَمعجزے، اواعلان دَ نبی ﷺ په رد دَ شرك فی العلم په(٤) کښ اوجواب دَ اخری طعن په (٦) کښ او دَ اول طعن په(۷،۸،۹) کښ اوترغیب قرآن ته (۱۰) کښ اوتخویف دنیوی دَ (۱۱) نه تر(۱۵) پورے۔

تفسیر

[۱] هرکله چه دَ سورة طٰه په آخرکښ دَ انتظار دَ عذاب ذکروؤ نودے آیت کښ دَ هغے نزدیوالے بیانوی سره دَ زجرنه په غفلت اواعراض سره ﴿اِقْتَرَبَ﴾ دا لفظ دلالت کوی په ډیرنزدیکت باندے نزدے دَ دے وجے

اِلَّا اسْتَمَعُوْهُ وَهُمْ يَلْعَبُوْنَ ۝۲ لَاهِيَةً قُلُوْبُهُمْ ؕ وَاَسَرُّوا النَّجْوَى ۖ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ۖ هَلْ هٰذَاۤ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ ۚ اَفَتَاْتُوْنَ السِّحْرَ وَاَنْتُمْ تُبْصِرُوْنَ ۝۳ قٰلَ رَبِّيْ يَعْلَمُ الْقَوْلَ فِي السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ ۖ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ۝۴ بَلْ قَالُوْۤا اَضْغَاثُ اَحْلَامٍ بَلِ افْتَرٰىهُ بَلْ هُوَ شَاعِرٌ ۖ فَلْيَاْتِنَا بِاٰيَةٍ كَمَاۤ اُرْسِلَ الْاَوَّلُوْنَ ۝۵

مګر غوږ ورته کیدی اوحال داچه دوی لوبے کوی (۲) مشغوله دی زړونه دَ دوی او پټے جرګے اوکړے هغه چاچه ظلم ئے کړے دے چه نه دے دامګر بشر د ے ستاسو پشان ایا قبلوئے تاسو جادو اوحال داچه تاسو پوهیږئ (۳) وئیلی دی رسول چه رب زما خبر دے په هره وینا که په اسمان کښ وی اوکه په زمکه کښ وی اوهغه هرڅه اوری اوپه هرڅه پوهه دے (٤) بلکه دوی وائی دا ګډوډ خوبونه دی بلکه دَځان نه ئے جوړ کړے دے بلکه دے شاعر دے پس مونږ له دِ راوړی یو نخه لکه چه لیږلے شویدی مخکښنی رسولان (۵)

نه دے چه کوم شے راتلونکے وی نونزدے وی۔ اوبله وجه داده چه دَ دنیا راتلونکے عمرکم دے په نسبت دَ تیرشوی اومراد دَ غفلت نه بے پرواهی ده یعنی تیاری دَ عملونودَ اخرت دپاره نکوی۔

[۲] دا هم زجردے په لعب کولوسره په وخت دَ بیان دَ قرآن کښ ﴿ذِكْرٍ مُّحْدَثٍ﴾ عقیده دَسلف صالحینواوتمام اهل سنت دا ده چه قرآن کریم مخلوق نه دے نوحادث نه دے۔ اودلته محدث نه مراد دا چه، په نازلیدلوکښ نوے دے، یا دا چه، دَنبی ﷺ په بیانولوکښ نوے دے، یا داچه، دَمنکرینوپه زعم کښ نوے دے ﴿يَلْعَبُوْنَ﴾ نه مراد دا دے چه مشغوله وی په دنیا سره یا مشغول شی په اعتراضونوکولو سره په قرآن باندے۔

[۳] دا هم زجردے په لهودَ قلوبویعنی مشغوله دی زړونه دَ دوی په دروغو قصودَ شرك اوبیا زجردے په پټوجرګوکولودَ نبی په مخالفت کښ اودا ظلم دے، دا شپږ مرتبے وے دَ غافلینواوس ذکرکوی شپږطعنونه دَ هغوی په رسول باندے۔ اول طعن په رسول باندے په بشریت سره دادَ ټولوکافرانو شریکه وینا ده په باره دَ هریونبی کښ، اودویم طعن ئے په سحر سره اوکړو ﴿اَفَتَاْتُوْنَ السِّحْرَ﴾ مراد دَ دے نه تابعداری کول دی۔ ﴿وَاَنْتُمْ تُبْصِرُوْنَ﴾ په دیکښ اشاره ده چه کافرانوهم سحر بدګنړلو۔

[٤] په دیکښ رد دَ شرك فی العلم دے یعنی هرکله چه دوی پټے جرګے کولے اونبی ﷺ دوی له دَ هغے خبرورکړونووهم راغے چه نبی په غیب پوهیږی نوجواب اوشو چه نبی ﷺ دا صفت دَ اللّٰه تعالیٰ دَپاره خاص کړے دے او دارنګ نبی خوصرف دَخپل رب صفت کوی په طریقه دَتوحید فی العلم سره نوپه دے کښ دلیل دے دَهغه دَ رسالت ځکه چه ساحران اوکاهنان علم دَغیب ځان له دعویٰ کوی۔

[۵] دا دریم طعن دے چه قرآن ته ئے ګډوډ خوبونه وئیلی دی او ﴿اَضْغَاثُ﴾ بے تعبیره او دروغ خوبونوته وئیلے کیږی بیا دَ حیرانتیا دَوجے انتقال ئے اوکړو ځلورم طعن ته چه دا افتراء ده بیا پنځم طعن ته چه دے شاعردے اواخری طعن مطالبه دَ معجزاتو په شان دَ تیر شوؤ انبیاؤ علیهم السلام۔

مَآ اٰمَنَتْ قَبْلَهُمْ مِّنْ قَرْيَةٍ اَهْلَكْنٰهَا ۚ اَفَهُمْ يُؤْمِنُوْنَ ۝٦ وَمَآ اَرْسَلْنَا قَبْلَكَ اِلَّا رِجَالًا نُّوْحِيْٓ اِلَيْهِمْ فَسْـَٔلُوْٓا اَهْلَ الذِّكْرِ اِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ۝٧ وَمَا جَعَلْنٰهُمْ جَسَدًا لَّا يَاْكُلُوْنَ الطَّعَامَ وَمَا

ایمان نه دے راوړے مخکښ دَ دوی نه هیڅ یو کلی والو چه مونږ هلاك کړیدی ایا پس دوی به ایمان راوړی (٦) اونه دی لیږلی مونږ ستانه مخکښ مګر نارینه چه وحی کوله مونږ هغوی ته پس تپوس اوکړئ دَ علم والونه که چرے تاسو نه پوهیږئ (٧) او نۀو پیدا کړی مونږ دوی داسے جوسے چه نه ئے خورلو خوراك اونه

[٦] دا جواب دے دَ آخری طعن یعنی مطالبه دَ آیت، حاصل دا چه مخکینوقومونوته دغسے معجزات زاغلی وۀکوم چه دوی ئیے غواړی هغوی ایمان نه وۀ راوړے نودوی خوپه ضد اوعنادکښ دَ هغوی نه زیات دی نودوی به کله ایمان راوړی دا جواب ئیے دَ دے وجے نه مخکے رواړو چه دَ دوی دا سوال څه نه څه په دلیل باندے بنا وۀ چه رسولان خو مونږ منو لیکن دا رسولان دِ دَ هغوی پشان معجزه راوړی او نور طعنونه خوصرف په ضد اوپه جهل باندے بنادی دَ هغے جواب ته حاجت نیشته ما سیوا دَ اعتراض اول نه دَ هغے جواب تفصیلی دے دَ دے وجے نه هغه ئے روستوذکرکړو۔

[٧] داجواب دے دَ اول طعن په باره دَبشریت دَ نبی کښ مطلب دا چه تیر شوی رسولان ټول نارینه وۀ۔ او رِجَالاً په وصف دَ ملائکوکښ نه رائځی نومعلومه شوه چه بشر وۀ او ﴿اَهْلَ الذِّكْرِ﴾ عام دے یهود اونصاریٰ کښ چه دَ اللّٰه تعالیٰ دَکتابونو صحیح عالم وی اوتحریف نه کوی اوقرآن وحدیث والاعالمان، یعنی انکارمه کوئے دَ بشریت دَ رسول نه بلکه عالمانو دَکتاب وسنت له راشئ چه تاسوته ثابت کړی چه بشر رسول کیدے شی۔ الذِّکروحی ته وئیلے شی یعنی هغه عالمان چه وحی باندے عمل کوی او وحی په دلیل کښ ذکر کوی ، او تفسیر قرطبی کښ ئے راوړی دی چه په تواترسره ثابت ده چه رسولان ټول بشروۀ۔

فائده: اعلام الموقعین عن رب العالمین دَعلامه ابن القیم الجوزیه کتاب په (ج ٢ ص ١٦٩) کښ سوال ذکردے۔ چه دَ دے آیت نه تقلید معلومیږی اوبیائے جواب کړے دے دَ هغے (عربی عبارت) معنیٰ دا ده چه اللّٰه تعالیٰ بدی ذکر کړیده دَهغه چاچه اعراض کوی دَ ما انزل اللّٰه (قرآن کریم اوصحیح حدیث) نه او تقلید دَ مشرانوکوی نودا تقلید په اتفاق دَ امت سره مذموم اوحرام دے۔ اوهغه شخص چه کوشش کوی په اتباع دَ ما انزل اللّٰه کښ لیکن بعضے دَ هغے ته دَ دۀ علم اونه رسی نودے دَ هغه چا خبره اومنی چه دَ دۀ نه علم کښ زیات وی نودا تقلید محمود دے۔ حاصل دا دے چه اهل الذکر، عالمانودَ قرآن اوحدیث ته وائی یوشخص چه یوعالم لره دَ قرآن اوسنت عالم ګڼړی اودَ دۀ سره علم دَقرآن اوسنت بالکل نه وی یا په یومسئله کښ نه وی اودے دَ دغه عالم نه مسئله اوتپوسی نودۀ حقیقتاً دَ قرآن اوسنت تابعداری اوکړله لیکن په دے کتاب کښ هم اوشاه ولی اللّٰه په عقد الجیدکتاب کښ هم لیکلی دی که دے سړی ته په راتلونکی وخت کښ دَ قرآن اوحدیث نه صحیح نص معلوم شواودَ هغه قول نه خلاف وۀنوهغه قول به پریږدی او قرآن اوحدیث باندے به عمل کوی اوکه داسے ئے اونکړل نومعلومه شوه چه دے شخص تقلید مذموم اوحرام کړیدے۔ هاں دَ دے آیت نه دَتقلید شخصی په اثبات باندے دلیل نیول صحیح نه دی ځکه دَ

كَانُوْا خٰلِدِيْنَ ۝٨ ثُمَّ صَدَقْنٰهُمُ الْوَعْدَ فَاَنْجَيْنٰهُمْ وَمَنْ نَّشَآءُ وَاَهْلَكْنَا الْمُسْرِفِيْنَ ۝٩ لَقَدْ اَنْزَلْنَآ
اِلَيْكُمْ كِتٰبًا فِيْهِ ذِكْرُكُمْ ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ۝١٠ وَكَمْ قَصَمْنَا مِنْ قَرْيَةٍ كَانَتْ ظَالِمَةً وَّاَنْشَاْنَا ع ۷
بَعْدَهَا قَوْمًا اٰخَرِيْنَ ۝١١ فَلَمَّآ اَحَسُّوْا بَاْسَنَآ اِذَا هُمْ مِّنْهَا يَرْكُضُوْنَ ۝١٢ لَا تَرْكُضُوْا وَارْجِعُوْٓا اِلٰى مَآ

ژو دوی همیشه (۸) بیا پوره کړه مونږ دَ هغوی سره وعده پس بچ کړل مونږ هغوی لره اوهغه چاړه چه مونږ غوښتلو او هلاك کړل مونږ دَ حدنه تیروتونکی (۹) یقیناً مونږ نازل کړے دے تاسوته کتاب په هغے کښ یاداشت ستاسو دے ایا پس دَ عقل نه کار نه اخلئ (۱۰) او ډیر هلاك کړی دی مونږ کلی چه ژو ظلم کؤونکی اوپیدا کړل مونږ روستو دَ هغوی نه قوم نور (۱۱) پس هر کله چه اولیدو هغوی عذاب زمونږ نودغه وخت دوی دَ هغے نه منډے وهلے (۱۲) (اوئیلے شو) منډے مه وهئ او واپس شئ هغه مالونو ته

تقلید شخصی معنیٰ دا ده چه یو شخص (عالم معین) پسے دَ تقلید کولو التزام او کړی که دَنورو علماؤ اقوال دَ قرآن اوسنت سره زیات موافق وی یا دَ دے شخص قول دَ قرآن اوسنت نه مخالف معلوم شی بیا هم دے دَ دغه شخص قول باندے عمل پریخودلوته تیا رنه وی۔ اوپه داسے تقلید باندے امام ابن قیم په اعلام الموقعین کتاب کښ په تفصیل سره رد کړے دے۔

[۸] په دے آیت کښ دَتیر شوی جواب دلیل دے یعنی رسولان بشر ووُ ځکه چه هغوی دَ خوراك نه مستغنی (بے حاجته) نوؤ او دارنګ دَ فنا او دَ مرګ نه هم بچ نه ووُ او دا صفتونه دَ دوی دپاره هیڅ عیب نه دے اودَ رسالت سره منافات نه لری۔

[۹] په دے آیت کښ اشاره ده تخویف دنیوی ته دَپاره دَ منکرینوپه اهلاك دَ منکرینوتیرشوواوبشارت دنیویه دے په نجات اونصرت دَانبیاؤاودَ تابعدارو دَ هغوی سره۔ اودا وعده په سورة یونس (۱۰۳) کښ اوسورة الصافات (۱۷۱،۱۷۲،۱۷۳) کښ ذکرده او په دے کښ اشاره ده چه دغه رسولان په نجات خپل اوپه هلاکت دَ دشمنانو کښ اللّٰه تعالیٰ ته محتاج ووُ۔

[۱۰] په دے کښ جواب دَ هغه طعنونودے چه دَ قرآن په باره کښ تیرشوی آیاتونو کښ ذکرشوی دی په بیان دَ صدق دَ قرآن سره چه دا ذکردے او اللّٰه تعالیٰ نازل کړے دے۔ اوذکرنه مراد بیان دَ احکامودَ شرعے او وعظ ونصیحت دے۔ اوپه دے باندے عمل کول سبب دَ شرافت دے نوځکه بعضِ مفسرینودَ ذکرمعنیٰ په شرافت سره کړیده۔ اودَ حسن بصری نه نقل دے چه ذکرپه معنیٰ دَ دین سره دے (ابن جریر)۔

[۱۱] دَ دے نه ترآیت (۱۵) پورے تخویف دنیوی دے دَپاره دَهغه چاچه اعراض کوی دَ دے ذکرنه۔ اودے کښ خاص واقعه مرادنه ده بلکه تیرشوی قومونه چه تکذیب ئے کړے ووُدَ انبیاؤهغه ټول مراد دی ﴿قَصَمْنَا﴾ قصم په لغت کښ ماتولوته وائی دلته مراد هلاکول دی ﴿ظَالِمَةً﴾ داسبب دَعذاب دے ظلم دَهغوی شرك کفراوتکذیب دَ رسولانواوپه هغوی باندے طعنونه کول ووُ۔

[۱۲] ﴿اَحَسُّوْا﴾ ئے ځکه ذکرکړو که دَاحساس دَ عذاب نه مخکښ ئے توبه کړے وے نوقبوله شوے به وه ځکه چه احساس په معنیٰ دَ یقین دَ عذاب دے ﴿يَرْكُضُوْنَ﴾ رکض اصل لغت کښ پونده خوځول اوپه زمکه باندے په تیزئے سره کیخودلوته وائی مراد ترینه منډه وهل اوتختیدل دی۔

اُتْرِفْتُمْ فِيْهِ وَمَسٰكِنِكُمْ لَعَلَّكُمْ تُسْـَٔلُوْنَ ﴿١٣﴾ قَالُوْا يٰوَيْلَنَآ اِنَّا كُنَّا ظٰلِمِيْنَ ﴿١٤﴾ فَمَا زَالَتْ تِّلْكَ
دَعْوٰىهُمْ حَتّٰى جَعَلْنٰهُمْ حَصِيْدًا خٰمِدِيْنَ ﴿١٥﴾ وَمَا خَلَقْنَا السَّمَآءَ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا لٰعِبِيْنَ ﴿١٦﴾ لَوْ
اَرَدْنَآ اَنْ نَّتَّخِذَ لَهْوًا لَّاتَّخَذْنٰهُ مِنْ لَّدُنَّآ ۖ اِنْ كُنَّا فٰعِلِيْنَ ﴿١٧﴾ بَلْ نَقْذِفُ بِالْحَقِّ عَلَى

چه بے کچه مست کړے شوی ئے په هغے کښ او کورونو خپلو ته دَ دے دپاره چه ستاسو نه سوال او کړے شی (١٣) دوی اُوئیل هائے تباهی ده زمونږ یقیناً ژوند مونږ ظالمان (١٤) پس همیشه وے دغه چغے دَ دوی تردے چه او کړ ځول مونږ دوی دل دول مړه شوی (١٥) اونه دی پیدا کړی مونږه اسمان اوزمکه او هغه چه دَ دے په مینځ کښ دی لوبے کژونکی (١٦) که چرے غوښتلے مونږ چه اونیسو مشغله خامخا نیولے به وے مونږ هغه دَ خپلے خوانه که چرے داکار مونږ کولے (١٧) بلکه ورګذاړو مونږ حق لره په

[١٣] دا قول دَ ملائکودَ طرف نه دے ﴿مَآ اُتْرِفْتُمْ﴾ نه مراد سازوسامان اونعمتونه دی چه دَ هغے دَ وجے نه ئے دَ حدودو اِلٰهیه نه تجاوز کوؤ ﴿لَعَلَّكُمْ تُسْـَٔلُوْنَ﴾ داپه طریقه دَ استهزاء سره دے یعنی چه ستاسونه تپوس اوکړیشی چه ولے تیخته کوئے ولے ایمان نه راوړئے او ولے په تاسوباندے عذاب راغے (دا دے ټولو معانیوته شامل دے)۔

[١٤] دا اقرار اوپښیمانتیا ده په ظلم اوپه ګناهونوباندے په داسے وخت کښ چه فائده نه ورکوی۔

[١٥] مراد دا دے چه په دے اقرارباندے دوی نه عذاب نه دے دفع کړے شوے ﴿حَصِيْدًا﴾ هغه فصل ته وئیلے کیږی چه لَو کړیشی اوټکړے شی ﴿خٰمِدِيْنَ﴾ خمود په اصل کښ دَ اورمړ کیدل دی په دے کښ اشاره ده چه دَ دوی غرورتکبراوغصّه دَ اور پشان وه خولکه چه اورمړشی دغسے دَ دوی زور شوراوغصه هم مړه شوه۔

[١٦] دَ دے ایت نه (٣٠) پورے دویم باب دے په دے کښ دوه مختصرعقلی دلیلونه دی دَپاره دَ تذکیر(١٦، ١٩) کښ او دوه نقلی دلیلونه دی دپاره دَ تذکیر یو دَ ملائکو نه او دویم دَ تمام انبیاؤنه اجمالاً(٩٠، ٢٠، ٢١، ٢٥) کښ اوځلور زجرونه دی (١٧، ١٨، ٢١، ٢٤، ٢٦، ٢٧، ٢٨، ٢٩) کښ په دے (١٦) کښ دلیل عقلی دے یعنی آسمانونه او زمکه عبث اوبے فائدے ندی پیدا کړے شوی بلکه پیداکړے شوی دی دَپاره دَ دلالت په وجود دَ اللّٰه تعالیٰ اوپه توحید باندے اودارنګ صٓ (٢٧) کښ دی او سورۃ دخان (٣٨،٣٩) کښ دی۔

[١٧] په دے ایت کښ یوه توجیه دا ده چه مراد دَلهواً نه عبث دے چه مشغولول کوی یعنی که مونږاراده کولے چه آسمانونه او زمکه مے صرف دَخپل مشغولا دَپاره پیداکولے نومابه دَځان سره ساتلے اوتاسوته به مے دَ دے دلیلونه نه بنکاره کولے اودا توجیه دَ ایت تیرشوی اوراتلونکی سره مناسبت او ربط لری۔ دویمه توجیه دا ده که مونږ ولد نیولے نودَ هغه چانه به مِ ولد جوړ کړے وے چه زما سره دی اوپخپله خو بنه به مِ نیولے۔ ستاسوخو بنے ته به مے نه پریخودلے ﴿اِنْ كُنَّا﴾ اِن په معنیٰ دَ نفی دے یعنی نه یومونږ کوؤنکی دَ دے کاریا اِن شرطیه دے اوجزاء ئے دَ مخکښے په قرینے سره پټه ده یعنی که چرے مونږ داکارکولے نوجنت جهنم جزاء سزاء وغیره به مے نه پیداکولے۔ دویمه معنیٰ داده یعنی که چرے مونږ کولے نوستاسوخوښے ته مے نه پریخودله۔

الْبَاطِلِ فَيَدْمَغُهٗ فَاِذَا هُوَ زَاهِقٌ ؕ وَلَكُمُ الْوَيْلُ مِمَّا تَصِفُوْنَ ﴿۱۸﴾ وَلَهٗ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ
وَمَنْ عِنْدَهٗ لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ عَنْ عِبَادَتِهٖ وَلَا يَسْتَحْسِرُوْنَ ﴿۱۹﴾ يُسَبِّحُوْنَ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ لَا
يَفْتُرُوْنَ ﴿۲۰﴾ اَمِ اتَّخَذُوْٓا اٰلِهَةً مِّنَ الْاَرْضِ هُمْ يُنْشِرُوْنَ ﴿۲۱﴾ لَوْ كَانَ فِيْهِمَآ اٰلِهَةٌ اِلَّا اللّٰهُ لَفَسَدَتَا ۚ
فَسُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ الْعَرْشِ عَمَّا يَصِفُوْنَ ﴿۲۲﴾ لَا يُسْـَٔلُ عَمَّا يَفْعَلُ وَهُمْ يُسْـَٔلُوْنَ ﴿۲۳﴾ اَمِ اتَّخَذُوْا

باطل باندے نوزخمی کړی دماغ ډهغه پس دغه وخت هغه وران شی اوستاسو دپاره تباهی ده د وجے ډهغه خبرونه چه وائے تاسو (په باره د الله تعالیٰ کښ)(۱۸) اوخاص د الله تعالیٰ په اختیار کښ دی هغه څوك چه په اسمانونو کښ دی اوپه زمکه کښ دی اوهغه څوك چه هغه ته نزدے دی لوئی نه کوی د بندگئ د هغه نه اونه ستړی کیږی (۱۹) پاکی وائی د الله تعالیٰ شپه او ورځ نه سستی ښکاره کوی (۲۰) ایا نیولی دی دوی معبودان د زمکے والونه چه هغوی ژوندی کول کولے شی (۲۱) که چرے وے په زمکه اسمانونو کښ معبودان برحق ډیر سیوا د الله تعالیٰ خامخا خراب شوے به ژوانتظام د دے دواړو پس پاك دے الله تعالیٰ چه مالك د عرش دے ډهغه څه نه چه دوی ئے بیانوی(۲۲) تپوس نه شی کیدے د الله تعالیٰ نه ډهغه کار چه هغه کوی او د دے مخلوق نه تپوس کیدے شی (۲۳) ایا نیولی دی

[۱۸] دا اضراب دے ډمخکښ نه یعنی لهونه ده بلکه دا دلیلونه ډحق د اثبات اوډ باطل ډ رد ډپاره دی حق قرآن دے اوباطل دی دروغ د دوی اوالله تعالیٰ ته ډعبث اوډ ولد نسبت کول دی، اوحق حجت اودلیل دے اوباطل شبهات ډمنکرینودی ﴿مِمَّا تَصِفُوْنَ﴾ نه مراد نسبت د ولد اوډلهوے دے الله تعالیٰ ته۔

[۱۹]په دے ایت کښ دویم مختصر عقلی دلیل دے اوذکر د عجز د ملائکودے ډپاره د دلیل نقلی اونفی د الوهیت اوولدیت ډملائکونه ﴿وَمَنْ عِنْدَهٗ﴾ مراد د دے نه ملائك دی۔

[۲۰] دا هم بیان ډحال ډعبودیت ډملائکودے۔ اوډکعب الاحبارنه نقل دی چه دوام د تسبیح د ملائکوداسے دے لکه چه انسان ساه اخلی، نه په هغے ستړے کیږی اونه پرے ډنورکارنه مشغولیږی، پریخودل د یوکارډپاره د درے سببونونه یوسبب وی اول استکبار دویم ستړی کیدل دریم ناراستی اوسستی کول اوپه ملائکوکښ دا درے و اړه اوصاف نیشته۔

[۲۱] دا زجر دے په شرکاؤ جوړولو د زمکے والونه یعنی بتان، اولیاء، مړی یا ژوندی ﴿يُنْشِرُوْنَ﴾ د نشورنه دے په معنیٰ د ژوندی کولو اول محل یا دوباره ژوندی کول لکه سورة الفرقان (۳) کښ دی۔

[۲۲] په دے کښ رد دے په اتخاذ د آلهوباندے چه مخکښ آیت کښ تیرشواوپه دے کښ دوه توجیه دی۔ اوله توجیه بناده په دے خبره باندے چه مراد د آلهه نه مستقل قدرت اواختیاراوتصرف والادی اوفساد نه مراد نیشت والے دے یا د انتظام بربادی ده۔ نومعنیٰ دا شوه چه په زمکه اوآسمانونوکښ مستقل تصرف کؤنکی ډیر وے نوزمکه اوآسمانونه به نه وؤ۔ یا انتظام به ئے برباد شوے وؤاو وجه دا ده چه ایجاد د دے به یا د دواړو په قدرت مستقله سره وی یا د یوتن په قدرت سره اول خوځکه باطل دے چه دوه مستقل قدرتونه دوه مستقل علتونه شو اوپه یو شی (معلول) باندے دوه علتونه نشی جمع کیدے۔ اوکه ډیوپه قدرت سره موجود شی نوبل به عبث شی اوترجیح بلامرجح به راشی۔ او دا د الوهیت سره منافی دی۔

مِنْ دُوْنِهٖۤ اٰلِهَةً ؕ قُلْ هَاتُوْا بُرْهَانَكُمْ ۚ هٰذَا ذِكْرُ مَنْ مَّعِيَ وَذِكْرُ مَنْ قَبْلِيْ ؕ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا
يَعْلَمُوْنَ ۙ الْحَقَّ فَهُمْ مُّعْرِضُوْنَ ﴿۲۴﴾ وَمَاۤ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا نُوْحِيْۤ اِلَيْهِ اَنَّهٗ لَاۤ
اِلٰهَ اِلَّاۤ اَنَا فَاعْبُدُوْنِ ﴿۲۵﴾ وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحْمٰنُ وَلَدًا سُبْحٰنَهٗ ؕ بَلْ عِبَادٌ مُّكْرَمُوْنَ ﴿۲۶﴾ لَا يَسْبِقُوْنَهٗ

سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه حق دار دَ بندګئ ته اُوایه راوړئ پوخ دلیل خپل دا (رد دَ شرك) وعظ زما دَ ملګرو دے او وعظ دَهغه چادے چه زمانه مخکښ دی بلکه دِیر دَ دے خلقونه نه پوهیږی په حق باندے نو دوی مخ ګرځوی (۲۴) او نه دے لیږلے مونږ مخکښ ستانه هیڅ رسول مګر وحی کوله مونږ هغه ته یقیناً چه نیشته حق دار دَ بندګئ سیوا زمانه پس بندګی خاص مالره کوئ (۲۵) او دوی وائی نیولے دے رحمان اولاد پاك دے هغه بلکه دوی (محتاج) بندګان دی عزت ورکړے شوے دے (۲۶) نه پرواندے کیږی دَ اللّٰه تعالیٰ نه

دارنګ وئیلے کیدیشی چه آلِهه ګنړشی نوعالم به غیرممکن شی۔ ځکه چه تمانع (یوبل منع کول په زورسره) به ممکنه شی اوتمانع سره الوهیت باطلیږی۔ اودَ دے ملازمه په سورة مؤمنون (۹۱) کښ ده۔ دَ دے نه معلومه شوه چه دا دلیل دَ اثبات دَ توحید دَپاره قطعی اویقینی دے۔ دا قول دَ تفتازانی په شرح عقائدکښ بے مناسبه دے چه هغه وائي چه دا اقناعی اوظنی دلیل دے تفسیر روح المعانی اونورو اهل علموهم په دهٔ باندے ردکړے دے۔ دویمه توجیه بِناده په دے خبره چه مراد دَآلِهونه هغه آلِهه دی چه مشرکانواللّٰه تعالیٰ سره شریك جوړول لکه په سورة اسراء (۴۲) کښ دی۔ اودَهغوی آلِهه خوعاجزدی اوعاجزخودَ زمکے او آسمانونونظام نشی سمبالولے نومعنیٰ داشوه چه دَ دے مشرکانودا آلِهه (چه ضعیف اوکمزوری دی) که دَ زمکے او اسمانونو یعنی دَ دنیا تدبیرکوؤنکی شی لکه چه اوس هم مشرکان قطبان اوغوثان دَ دنیا تدبیرکوؤنکی ګنړی) نودا انتظام به خراب شوے وے ځکه چه هغوی کمزوری دی۔ ﴿فَسُبْحَانَ﴾ دانتیجه ده دَ دے دلیل مخکنی ﴿رَبِّ الْعَرْشِ﴾ په دے کښ اشاره ده چه اللّٰه تعالیٰ نظام چلوؤنکے دے اودا نظام ئے بل چاته سپارلے نه دے ﴿يَصِفُوْنَ﴾ ولد اوشریك۔

[۲۳] دا بل دلیل دَ توحید دے چه آلِهه دَ دے مشرکانودَ اللّٰه تعالیٰ نه سیوا عاجزدی اواللّٰه تعالیٰ سره قدرت مستقله دے ﴿لَا يُسْئَلُ عَمَّا يَفْعَلُ﴾ اعتراض نشی کیدے دَ هغه په هیڅ کارباندے ځکه چه هرکارکښ حکمت دے اوحساب ورسره هم نشی کیدلے۔

[۲۴] هرکله چه مخکښ دلیل په توحید باندے ذکرشونواوس زجردے چه په اتخاذ دَآلِهه دوی لره دلیل نیشته ﴿هٰذَا ذِكْرُ﴾ نه مراد دا دے چه دامسئله دَتوحید اورد دَ شرك دَ ټولو پیغمبرانو او دَ کتابونو اِلٰهیومسئله ده۔ ﴿لَا يَعْلَمُوْنَ الْحَقَّ﴾ حق توحید دے او قرآن دے اودا دلیل دے چه جهل سبب دَ اعراض دے۔

[۲۵] دا تائید دے دَ تیرشوی ایت چه په مسئله دَ توحید باندے ټول انبیاء علیهم السلام رالیږلی شوی دی او دا دلیل نقلی اجمالی یا اجماعی دے دَ ټولوانبیاؤ نه او داسے په سورة نحل (۳۶) اوسورة زخرف (۴۵) کښ هم دی۔

[۲۶] په دے کښ زجردے په نسبت کولو دَ ولد اللّٰه تعالیٰ ته اورد دے په مشرکین بالملائکه باندے او ولد نه مراد بنته (لور) ده، اوآیت عام دے هغه ټولومشرکانو ته چه اللّٰه تعالیٰ ته دَولد حقیقی یاحکمی نسبت کوی دَحکمی معنیٰ دا ده چه اللّٰه تعالیٰ ورله اختیاراوتصرف ورکړے وی چه په هغے وجه دوی دَ

بِالْقَوْلِ وَهُمْ بِاَمْرِهٖ يَعْمَلُوْنَ ﴿۲۷﴾ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يَشْفَعُوْنَ ۙ اِلَّا لِمَنِ
ارْتَضٰى وَهُمْ مِّنْ خَشْيَتِهٖ مُشْفِقُوْنَ ﴿۲۸﴾ وَمَنْ يَّقُلْ مِنْهُمْ اِنِّيْٓ اِلٰهٌ مِّنْ دُوْنِهٖ فَذٰلِكَ نَجْزِيْهِ
جَهَنَّمَ ۭ كَذٰلِكَ نَجْزِي الظّٰلِمِيْنَ ﴿۲۹﴾ ع اَوَلَمْ يَرَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَنَّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ كَانَتَا رَتْقًا ع ۲۱

په وینا کښ او دوی دَهغه په حکم سره عمل کوی (۲۷) خبردے اللّٰه تعالیٰ په هغه حالاتو چه رواندے دَ دوی دی اوهغه چه روستو دَ دوی دی او سفارش نشی کولے مگر صرف هغه چاله چه غوره کړے وی او دوی دَ وجے دَ ویرے دَ اللّٰه تعالیٰ نه مینه کؤونکی دی دَهغه سره (۲۸) اوچاچه اُوئیل دَ دوی نه چه ځه هم دَ خدائی څه صفت لرم سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه نود غه کس له به سزا ورکؤو مونږ جهنم دغسے سزا ورکؤو مونږ ظالمانوته (۲۹) ایا نه ګوری کافران چه اسمانونه اوزمکه دواړه بند ؤو

بعضے حاجتونوپوره کولوذمه واران دی۔ اودَ رد دَپاره دَ دغه صالحینوبندګانو اته صفات دَعجزئے ذکر کړی دی په دے ایت کښ دوه صفتونه دی۔ اول صفت عباد عاجزی کوونکی دی اومحتاج دی (۲) ﴿مُكْرَمُوْنَ﴾ کرامت اوعزت والادی په نیزدَ اللّٰه تعالیٰ یعنی کرامت کښ اللّٰه تعالیٰ ته محتاج دی۔

[۲۷] په دے ایت کښ دوه صفتونه دی یعنی په وینا کولو کښ دَ اللّٰه تعالیٰ نه خلاف نه کوی ځکه چه سبقت په وینا کښ کنایه ده په عرف کښ دَ مخالفت کولونه اودَاللّٰه تعالیٰ دَ امرموافق عمل کوی۔

[۲۸] په دے ایت کښ دَ دوی درے صفات ذکرکوی یعنی اللّٰه تعالیٰ دَ دوی په ټولوحالتونوعالم دے، مابین ایدیهم کښ راتلونکی حالات اوماخلفهم کښ تیرشوی حالات مراد دی یا مخه اوشامراد ده اواشاره ده ټولوزمانواوټولو طرفونوته۔ که په دوی کښ صفت دَ قدرت اواختیار مستقله موجود وے نواللّٰه تعالیٰ ته به معلوم وے اودارنګ دوی شفاعت دَ مشرکینودَپاره نشی کولے نورد دے په مشرکانو باندے چه دَ دوی نه دَشفاعت کولوامیدونه مه لرئے اودوی ویره کوونکی دی ﴿اِلَّا لِمَنِ ارْتَضٰى﴾ مراد دَ دے نه مؤمن مؤحد دے چه اللّٰه تعالیٰ غوره کړے دے په رضا خپلے سره لکه سورة طٰهٰ (۱۰۹) کښ تیرشویدی خشیت، ویره کول سره دَ تعظیم نه او اشفاق، دَ ویرے دَ وجے نه زړه نرمیدل دی۔

[۲۹] په دے کښ ذکردے دَ اتم صفت چه دوی لره حق نیشته چه دعویٰ دَ الوهیت اوکړی۔ تفسیر قرطبی لیکلی دی اګرچه معصوم دی لیکن په عبادت سره مکلف دی نودا رد دے په هغه چا باندے چه وائی چه بعضے بزرګان په بزرګئ کښ داسے حدته اورَسی چه هغه لره جائزدی چه اناالحق یا سبحانی ما اعظم شانی، وائی یا دَ الوهیت دَیوصفت دعویٰ کوی دا ټول کفراوظلم دے ځکه اللّٰه تعالیٰ په دے ایت کښ هیڅوك دَ دے نه مستثنیٰ کړی نه دی چه هغوی لره دعویٰ دَصفت دَ الوهیت جائزوی ﴿اِنِّيْٓ اِلٰهٌ﴾ لفظ اللّٰه ئے نه دے وئیلے بلکه اله هرصفت دَ الوهیت ته شامل دے برابره خبره ده که دا دعوٰی په طریقه دَ شرکت سره وی او که په حلول او اتحاد سره وی۔

فَفَتَقْنٰهُمَا ؕ وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَآءِ كُلَّ شَیْءٍ حَیٍّ ؕ اَفَلَا یُؤْمِنُوْنَ ﴿۳۰﴾ وَجَعَلْنَا فِی الْاَرْضِ رَوَاسِیَ
اَنْ تَمِیْدَ بِهِمْ ۪ وَجَعَلْنَا فِیْهَا فِجَاجًا سُبُلًا لَّعَلَّهُمْ یَهْتَدُوْنَ ﴿۳۱﴾ وَجَعَلْنَا السَّمَآءَ سَقْفًا
مَّحْفُوْظًا ۚۖ وَّهُمْ عَنْ اٰیٰتِهَا مُعْرِضُوْنَ ﴿۳۲﴾ وَهُوَ الَّذِیْ خَلَقَ الَّیْلَ وَالنَّهَارَ وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ؕ

نو پرانستل مونږ دواړه اوپیدا کړے دے مونږ دَ اوبونه هر څیز ژوندے ایا پس دوی ایمان نه راوړی (۳۰) اوجوړ کړی دی مونږ په زمکه کښ کلك غرونه چه ګډه وډه اونه خوځی په دوی باندے اوجوړ کړی دی مونږ په هغے کښ فراخے لارے دَ دے دپاره چه دوی مقصد ته اورسی(۳۱) اوجوړ کړے دے مونږ اسمان چت ساتلے شوے او دوی دَ نخو دَهغے نه مخ اړوؤنکی دی (۳۲) اوخاص اللّٰه تعالیٰ هغه ذات دے چه پیدا کړیده شپه او ورځ او نمر او سپوږمیٔ

[۳۰] دَ دے آیت نه دریم باب دے ترآیت (٤٨) پورے، په دیکښ تذکیردے په څلورو عقلی دلیلونو سره بیا تسلی ده رسول ته سره دَ پنځم زجرنه (٣٤،٣٥)کښ بیا شپږم زجردے په (٣٦)کښ۔ بیا وؤم زجردے په (٣٧)کښ بیا اتم زجردے په (٣٨)کښ اوبیا تخویف اخروی (٣٩،٤٠)کښ اوتسلی رسول ته (٤١)کښ بیا نهم زجردے (٤٢)کښ او رد دے په شرك باندے په (٤٣)کښ بیا لسم زجردے (٤٤)کښ اوتسلی ده رسول ته (٤٥)کښ اوتخویف اخروی دے په (٤٦،٤٧)کښ۔ په دے ایت (۳۰)کښ دریم عقلی دلیل دے دَ ﴿رَتْقًا فَفَتَقْنٰهُمَا﴾ یوتفسیردا دے چه ټول اسمانونه یوجسم وؤ او ټولے زمکے یوجسم وے نودوی ئے دَ یوبل نه جدا جداکړل اودَ هریونه ئے اووه اووه جوړ کړل۔ دویم تفسیردا دے چه اسمان بند وؤیعنی باران ترینه نه وریدلواوزمکه بنده وه یعنی بوټی ترینه نه راوتل نواللّٰه تعالیٰ دَ اسمان دَ طرف نه بارانونه را او وړول اوپه هغے سره ئے دَ زمکے نه بوټی را اوټوکول ﴿وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَآءِ﴾ دَ دے یومعنیٰ دا ده چه هرژوندے څیزئے دَ اوبونه پیداکړے دے دویمه معنیٰ داده چه ژوندون دَهر ژوندی مخلوق ئے په اوبوسره ساتلے دے۔ دریمه معنیٰ دا ده چه هر ژوندے شے ئے دَ اوبودَ نطفے نه پیداکړے دے۔

[۳۱] دا څلورم عقلی دلیل دے ﴿تَمِیْدَ﴾ دَمیدنه دے اومیدپه معنیٰ دَګډوډګردش سره دے او ﴿فِجَاجًا﴾ کشاده ځایونوته وائی کله دَ تلو راتلولاروی او کله نه وی نودَ دے وجے نه ﴿سُبُلًا﴾ ئے ورپسے ذکرکړواو ﴿فِیْهَا﴾ ضمیر زمکے اوغرونو هریوته راجع کیدیشی ځکه چه زمکه کښ هم فراخے لارے دی اوغرونوکښ هم فراخه لارے دی۔ دویمه معنیٰ غوره ده ځکه چه فج دَغرونوپه مینځ کښ فراخے لارے ته وئیلے کیږی او ﴿یَهْتَدُوْنَ﴾ نه مراد داچه خپل مقصدونوته اورسی اودویمه معنیٰ داچه هدایت اومومی دَ دے دلیلونوپه سبب سره اوداسے په سورة نحل (۱۵)کښ هم ذکردی په اول دلیل کښ دَتربیت اورزق مواد ئے ذکرکړل اسمانونه، زمکه، اوبواوپه دویم دلیل کښ دَ رزق دَ طلب دَپاره ئے انعامات ذکرکړل چه په ګرځیدلوسره زمکه نه خوزیږی اولارے پکښ دی۔

[۳۲] داپنځم دلیل عقلی دے اودویمه جمله کښ زجردے په اعراض سره اودَ اسمان حفاظت په ډیرو طریقوسره دے دَ پریوتلونه محفوظ دے لکه سورة حج (٦٥) اوسورة فاطر(٤١)کښ۔ اودَشیاطینونه محفوظ دے لکه سورة صافات (۷) او سورة حجر(۱۷)کښ دی۔ اودَشرك اودَ نورو ګناهونونه محفوظ دے یعنی

كُلٌّ فِيْ فَلَكٍ يَّسْبَحُوْنَ ﴿۳۳﴾ وَمَا جَعَلْنَا لِبَشَرٍ مِّنْ قَبْلِكَ الْخُلْدَ ؕ اَفَاْئِنْ مِّتَّ فَهُمُ الْخٰلِدُوْنَ ﴿۳۴﴾
كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ ؕ وَنَبْلُوْكُمْ بِالشَّرِّ وَالْخَيْرِ فِتْنَةً ؕ وَاِلَيْنَا تُرْجَعُوْنَ ﴿۳۵﴾ وَاِذَا رَاٰكَ
الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِنْ يَّتَّخِذُوْنَكَ اِلَّا هُزُوًا ؕ اَهٰذَا الَّذِيْ يَذْكُرُ اٰلِهَتَكُمْ ۚ وَهُمْ بِذِكْرِ الرَّحْمٰنِ هُمْ

دا ټول په ځائے دَ چاپیره ګرځیدلو کښ لامبووهی (۳۳) اونه دے ورکړے مونږ هیڅ بشر لره ستا نه مخکښ همیشګیری ایا پس که ته مړشوے نو دوی به همیشه وی (۳٤) هر ساه والا ځکونکے دَ مرګ دے او ازمیښت کؤو مونږ په تاسو باندے په سختئ اوپه ارام سره دپاره دَ امتحان او خاص مونږ ته به تاسو راوګرځولے شئ (۳۵) اوهرکله چه اوینی تاله کافران نو نه نیسی تاله مګر ټوقے (وائی) ایا دا هغه سړے دے چه بدی وائی ستاسو دَ معبودانو اوحال داچه دوی دَ یاداشت دَ رحمان نه (په توحید سره) دوی

اسمانونو کښ ګناهونو والانیشته او ﴿اٰيٰتِهَا﴾ دَ اسمانونو، نمر، سپوږمئے، ستوری اودَ هغے انقلابات اوشپه او ورځ دی اوهم دارنګ په سورة یوسف (۱۰۵) کښ دی او ورپسے ایت کښ دَ هغے ذکر دے۔

[۳۳] دا شپږم دلیل عقلی دے۔ تیرشوی دلیلونه دَمکانونودَ قبیلے نه وؤاودا دلیل په زمانواودَهغے په اسبابوسره دے دارنګ هغه علوی اوسفلی دلیلونه وؤاودا دلیل وسطی دے خلق دَلیل اونهارئے مخکښ ذکرکړوچه معلومه شی چه دَ شپے او ورځے پیدائش دَنمرکارنه دے نمراوسپوږمئے صرف علامات دی۔ ﴿كُلٌّ﴾ نه مراد نمر، سپوږمئے اوستوری دی اودَ هغے په سبب سره شپه او ورځ ته هم دا نسبت کیدے شی۔ امام قرطبی ذکرکړی دی چه فَلَكٍ نه مرا مدار دے (یعنی ځائے دَګرځیدلوچاپیره) اودا اوؤافلاك دَ اسمانونو لاندے دی یعنی دَ هرنمرسپوږمئے اوستورودَپاره دَ اسمانونودَ لاندے جدا جدا دَګردش ځایونه دی، اوپه کوم ایاتونوکښ چه ذکرکړی دی چه نمرسپوږمئے په اسمان کښ دی نومراد ترینه طرف دَ اسمان دے ﴿يَسْبَحُوْنَ﴾ سبح په اصل کښ په اوبو کښ لامبووهلوته وئیلے شی نواشاره ده چه افلاك پشان دَ سمندردی اونمر، سپوګمئے ستوری اودَ هغے په واسطے سره شپه ورځ په هغے کښ دَ مهیانو پشان لامبو وهی په اسانه طریقے سره رفتارکوی۔

[۳٤] ربط دَ مخکښ سره دا دے چه دَ اسمانونو زمکو وغیره انقلابات په اختیار دَ اللّٰه تعالیٰ کښ دی نودَ انسانانومرګ او ژوند هم دَ هغه په اختیارکښ دی په دے ایت کښ رد دے په قول دَمشرکانو باندے چه داشاعردے مونږدَ دهٔ دَ مرګ انتظارکوؤ لکه سورة طور (۳۰)کښ دی، حاصل دَجواب دا دے چه تاسوهم همیشه نشئے پاتے کیدلے نوولے دَ دهٔ مرګ ته خوشحالیږئ اودارنګ په دے ایت کښ تسلی ده رسول اللّٰه تعالیٰ ﷺ ته که ته وفات شوے نواللّٰه تعالیٰ به ستا دَ دین حفاظت کوی لکه چه مخکښ انبیاء وفات شول نواللّٰه تعالیٰ دَ هغوی دَ دین حفاظت کړے دے او ﴿الْخُلْدَ﴾ نه مراد همیشه ژوند دے چه مرګ پرے نه راځی نوسوال په باره دَ عیسیٰ علیه السلام کښ نشی کیدے ځکه چه هغه ژوندے دے لیکن پس دَ نزول دَ اسمان نه به بیا مړ کیږی نو هغه لره خُلد نه دے ثابت شوے۔

[۳۵] دا متعلق دے دَتیرشوی ایت سره یعنی دَ مرګ نه هیڅ ساه والانشی بچ کیدے داسے سورة العمران (۱۸۵)کښ دی نو ایت انبیاؤ اولیاؤ ټولوته شامل دے۔ اودَ مرګ نه وړاندے دَخیراوشردَ راتللوحکمت ئے

كَفَرُوْنَ ﴿۳۶﴾ خُلِقَ الْاِنْسَانُ مِنْ عَجَلٍ ؕ سَاُورِيْكُمْ اٰيٰتِيْ فَلَا تَسْتَعْجِلُوْنِ ﴿۳۷﴾ وَيَقُوْلُوْنَ مَتٰى هٰذَا
الْوَعْدُ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۳۸﴾ لَوْ يَعْلَمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا حِيْنَ لَا يَكُفُّوْنَ عَنْ وُّجُوْهِهِمُ النَّارَ
وَلَا عَنْ ظُهُوْرِهِمْ وَلَا هُمْ يُنْصَرُوْنَ ﴿۳۹﴾ بَلْ تَاْتِيْهِمْ بَغْتَةً فَتَبْهَتُهُمْ فَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ رَدَّهَا

انکار کوی (۳۶) پیدا کړے شوے دے انسان دَ تادئے نه زر دے چه اوبه بنایم تاسو ته نخبنے خپلے نو په تادئے ئیے مه غواړئے (۳۷) او دوی وائی چه کله به وی دا وعده که تاسو رشتینی ئیے (۳۸) که چرے خبروے کافران (په تفصیل) دَ هغه وخت چه نه به شی اړولے دَ مخونو خپلونه اور اونه دَ شاګانو خپلونه اونه به دَ دوی سره مدد کیدے شی (۳۹) بلکه راځی به دوی ته ناګاهه نو حیران به کړی دوی لره پس طاقت به نه لری دَ واپس کولو دَ هغے

بیان کړو چه خیراوشرسره ستاسو امتحان کوی چه شکرپه خیراوصبرپه شر باندے کوئے اوکه نه؟۔دَ شرنه مراد تکالیف، مصیبتونه مرضونه وغیره دی اودَخیرنه مراد نعمتونه وسعت دَرزق صحت دَبدن مالداری اودارنګ معصیت اوطاعت حلال اوحرام هدایت اوضلال ته هم شامل دے۔

[۳۶] په دے آیت کښ زجردے په استهزاء په رسول پورے ﴿اَلَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا﴾ مراد ترینه کفرعنادی دے۔ ﴿يَذْكُرُ﴾ نه مراد په عیب اونقصان سره یا دَول، مراد ترینه کنځل کول دی اودا دَ مشرکانودَ طرف نه افتراء ده په رسول باندے لکه اوس زمانه کښ هم دَ توحید بیانوؤنکو په باره کښ مشرکان وائی چه دوی اولیاؤ او بزرګانوته کنځل کوی یعنی بیان دَ توحید او دَ شرك دَ دوی په نیز باندے کنځل دی۔ ﴿بِذِكْرِ الرَّحْمٰنِ﴾ مراد دَ دے نه قرآن دے یا مسئله دَ توحید ده۔

[۳۷] په دے کښ زجردے په استعجال (زرغوښتل) دَعذاب سره اومراد دَ خلق دَ عجل نه دا دے چه دَ انسان په طبیعت کښ عجلت پیداکړے شوے دے لکه په سورة روم (٥٤)کښ دی بنا په یوتفسیر سره اوپه اسراء (۱۱)کښ دی۔ اودارنګ حدیث دے چه النساء خلقت من ضلع ایسر۔ یعنی دَ زنانوپه خلقت اوطبیعت کښ کوږوالے دے په شان دَکښړے پوختے چه نیغول ئے غواړے نوماته به شی اویا به همیشه کږه وی ﴿اٰيٰتِيْ﴾ مراد دَ دے نمونے دَ عذاب دی اودلیلونه دَ قدرت دَ اللّٰه تعالیٰ دی په انتقام اخستلودَ منکرینونه۔

[۳۸] دے ایت کښ زجردے اوبیان دے دَ استعجال چه مخکښ ایت کښ تیرشوے دے ﴿مَتٰى﴾ مراد په دے سره استبعاد او انکارکول دی دَ قیامت اودَ عذاب نه۔

[۳۹] په دے ایت کښ الزامی جواب دے یعنی عذاب چه راشی نو بچ کیدے ترینه نشئ نوولے ئے په تلوارسره غواړئ اوپه ذکردَوجوه اوظهورکښ اشاره ده چه اوردَجهنم به په دوی باندے دَهرطرف نه احاطه کړے وی۔ اوجزاء دَ لَوشرطیه محذوف ده یعنی لَمَا اسْتَعْجَلُوا الْعَذَابَ (نوعذاب به ئے په تلوارسره نه غوختلے)۔

وَلَا هُمْ يُنْظَرُوْنَ ﴿٤٠﴾ وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ مِّنْ قَبْلِكَ فَحَاقَ بِالَّذِيْنَ سَخِرُوْا مِنْهُمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ
يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿٤١﴾ قُلْ مَنْ يَّكْلَؤُكُمْ بِالَّيْلِ وَالنَّهَارِ مِنَ الرَّحْمٰنِ ؕ بَلْ هُمْ عَنْ ذِكْرِ رَبِّهِمْ مُّعْرِضُوْنَ ﴿٤٢﴾
اَمْ لَهُمْ اٰلِهَةٌ تَمْنَعُهُمْ مِّنْ دُوْنِنَا ؕ لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ نَصْرَ اَنْفُسِهِمْ وَلَا هُمْ مِّنَّا يُصْحَبُوْنَ ﴿٤٣﴾ بَلْ مَتَّعْنَا
هٰٓؤُلَآءِ وَاٰبَآءَهُمْ حَتّٰى طَالَ عَلَيْهِمُ الْعُمُرُ ؕ اَفَلَا يَرَوْنَ اَنَّا نَاْتِي الْاَرْضَ نَنْقُصُهَا مِنْ اَطْرَافِهَا ؕ

اونه به دوی لره مهلت ورکیدے شی (٤٠) اویقیناً ټوقے کړے شوی دی په ډیرو رسولانو پورے ستانه مخکښ پس راګیر کړو هغه چا لره چه مسخرے ئے کولے دَ دوی نه هغه عذاب چه دوی ورپورے ټوقے کولے (٤١) ته اُوایه څوك ستاسو ساتنه کوی دَ شپے او دَ ورځے دَ رحمان دَ عذاب نه بلکه دوی دَ یاداشت دَ رب خپل نه مخ اړه ژونکی دی (٤٢) ایا دوی لره معبودان شته چه اوبه ساتی دوی لره سیوا زمونږ نه وس نه لری دَ امداد دَ ځانونو خپلو اونه دَ دوی سره زمونږ دَ طرف نه ملګرتیا کیدے شی (٤٣) بلکه فائدے دَ دنیا ورکړی دی مونږ دوی ته او مشرانو دَ دوی ته تردے پورے چه اوګده شول په دوی باندے عمرونه ایا دوی نه ګوری چه راتلل کؤو مونږ وطن دَ دوی ته چه کمه ژو هغے لره دَ غاړو دَ هغے نه

[٤٠] داهم متعلق دے دَمخکے ایت سره چه دوی لره دَ عذاب دَ راتلومقررتاریخ اووخت نه دے معلوم بلکه ناګاهانه به راځی ﴿تَاْتِيْهِمْ﴾ ضمیر قیامت ته راجع دے یا اور دَ جهنم ته۔

فائده: دَ عذاب سره مناسب نصرت دے دَ هغے دَ دفع کولو دپاره اودَ راتللو دَ عذاب سره مناسب مهلت دے دَ هغے نه دَ بچ کیدلودَپاره۔ دَدے وجے نه په اول ایت کښ ﴿يُنْصَرُوْنَ﴾ اوپه دویم ایت کښ ﴿يُنْظَرُوْنَ﴾ ذکر کړے شو۔

[٤١] دے ایت کښ زجردے په استهزاء په رسولانوپورے اوتسلی ده نبی ﷺ ته اوداسے په سورة انعام (٦) کښ هم تیر شویدے او سورة رعد (٣٢) کښ په لږ فرق سره دے۔

[٤٢] دَ دے آیت په اخره جمله کښ زجردے په اعراض دَتوحیداودَ قرآن نه سره دَبیان دَ دے نه چه دَاللّٰه تعالیٰ دَعذاب نه هیڅوك ساتونکے نیشته ﴿مِنَ الرَّحْمٰنِ﴾ دَعذاب دَ رحمٰن نه۔ دویمه معنیٰ دا ده چه مِن کله په معنیٰ دَ بدل سره راځی لکه سورة زخرف(٦٠) کښ یعنی په بدل دَرحمان ذات کښ اودا معنیٰ ابن کثیر کړے ده لیکن دَ بدل تفسیرئیے په غیرسره کړے دے۔

[٤٣] دابیان دَ مَنْ يَّكْلَؤُكُمْ، دے په طریقه دَ استفهام انکاری سره یعنی ستاسوآلِهه ستاسوساتنه کولے نشی بیا رد دے په شرك باندے په نفی دَشرك فی التصرف سره نودویمه جمله علت دے دپاره دَ اولے جملے اوضمیرد لایستطیعون اوانفسهم راجع دے آلهه ته۔ اودویم هُم ضمیر راجع دے مشرکینویا آلهه ته۔ ﴿يُصْحَبُوْنَ﴾ یومعنیٰ دا ده چه دوی لره زمونږدَ عذاب نه پناهی نشی ورکیدے دویمه معنیٰ دا ده چه دوی سره ملګرتیا (په مدد کولوسره) نشی کیدے په اوله معنیٰ ضمیر راجع دے مشرکانوته او په دویمه معنیٰ راجع دے آلهه ته۔

اَفَهُمُ الْغٰلِبُوْنَ ﴿٤٤﴾ قُلْ اِنَّمَآ اُنْذِرُكُمْ بِالْوَحْيِ ۚ وَلَا يَسْمَعُ الصُّمُّ الدُّعَآءَ اِذَا مَا يُنْذَرُوْنَ ﴿٤٥﴾
وَلَئِنْ مَّسَّتْهُمْ نَفْحَةٌ مِّنْ عَذَابِ رَبِّكَ لَيَقُوْلُنَّ يٰوَيْلَنَآ اِنَّا كُنَّا ظٰلِمِيْنَ ﴿٤٦﴾ وَنَضَعُ الْمَوَازِيْنَ الْقِسْطَ
لِيَوْمِ الْقِيٰمَةِ فَلَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْئًا ؕ وَاِنْ كَانَ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ اَتَيْنَا بِهَا ؕ وَكَفٰى
بِنَا حٰسِبِيْنَ ﴿٤٧﴾ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ الْفُرْقَانَ وَضِيَآءً وَّذِكْرًا لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿٤٨﴾ الَّذِيْنَ

ایا پس دوی به زور اور شی (٤٤) ته اُوایه یقیناً ویره درکړوم تاسوته په وحی سره اونه اوری کونړ بلنے لره کم وخت چه دوی لره ویره ورکیدے شی (٤٥) اوکه اورسی دوی ته څه ټکړه دَ عذاب دَرب ستانه خامخا دوی وائی هائے تباهی ده زمونږ یقیناً مونږ ظالمان ؤو (٤٦) اوکیږدو مونږ تلے انصاف والا په ورځ دَ قیامت کښ نو ظلم به نشی کیدے په هیڅ نفس باندے هیڅ قسم اوکه چرے وی (عمل) په قدر دَ دانے دَ اوری رابه اوړو هغے لره اوپوره یو مونږ حساب کړونکی (٤٧) او یقیناً ورکړے ؤو مونږ موسیٰ(علیه السلام) او هارون(علیه السلام) ته فرقان اوډیره رنړا اویاداشت دپاره دَ متقیانو (٤٨) هغه کسان

[٤٤] په دے ایت کښ سبب دَ استهزاء اودَ انکار ذکرکوی یعنی سره دَ شرك کولواو انکارکولودَ رسول نه دوی ته دَ دُنیا ډیرنعمتونه ورکړے شویدی اوعمرونه ئے ډیرپه شرك اودَ دنیاپه مزوکښ تیرشول نو دَغفلت دَوجے نه په استهزاء دَ رسولانوکښ اخته شول ﴿اَفَلَا يَرَوْنَ﴾ په دے کښ تخویف دے منکرینوته مراد دا دے چه اللّٰه تعالیٰ دَ دوی په ملك باندے نبی ﷺ او اسلام ته غلبه اوتسلُط تدریجاً ورکوی یا دَ دوی په ملك باندے لږلږ عذابونه راځی نودوی به کله غالب شی۔ اوداسے په سورة رعد (٤١) کښ دی او دَدے ایت تفسیر په سورة احقاف (٣٧) کښ دے۔

[٤٥] په دے ایت کښ زجردے ﴿بِالْوَحْيِ﴾ نه مراد قرآن دے ﴿وَلَا يَسْمَعُ الصُّمُّ﴾ دا جواب سوال دے هرکله چه قرآن وحی ده نو په دوی باندے ولے اثرنه کوی جواب اوشو چه دوی دَ قرآن کریم نه کانړه دی۔

[٤٦] په دے ایت کښ تخویف دنیوی دے سره دَ زجرنه ﴿نَفْحَةٌ﴾ لږشی ته وئیلے شی۔ حصے ته هم وائی، یعنی په عذاب سره به دَ دوی کونړوالے لرے شی اوبیا به ارمانونه کوی لیکن فائده به نه ورکوی لکه چه دَ دے سورة په (١٤) کښ ذکرشول۔

[٤٧] په دے کښ تخویف اخروی دے په ذکرد موازینو اوپه وزن دَعملونوسره او حساب سره۔ ﴿الْمَوَازِيْنَ﴾ دَ اهل علم یو قول دا دے چه دَ هرنوع دَعملونوبه جدا جدا میزان وی دَ دے وجے نه جمع ذکرکړیده دویم قول دا دے چه میزان یودے لیکن په اعتبار دَ موزوناتو سره جمع ذکرکړیده اودَ محکښ اياتونو په قرینه سره معلومیږی چه وزن دَ اعمالو دَ کافرانو به هم کیږی ﴿الْقِسْطَ﴾ لفظ دَ ذوات خذف دے اودا صفت دے دَ موازین یا مفعول له دے یعنی لاجل القسط (دپاره دَ انصاف قائم کولو) ﴿حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ﴾ دَ عربو په عرف کښ دا په مثال دَ لګ والی کښ ذکر کیږی او دارنګ سورة لقمان ١٦ کښ هم ذکر دے اوکله په لفظ دَ ذَرَّة سره چه سورة نساء (٤٠) کښ ذکردے۔

[٤٨] دَ دے ایت نه تر (٩٤) پورے څلورم باب دے په دے کښ ذکرد اولس انبیاؤ دے تفصیلاً دپاره دَ تذکیرد غافلانودَ توحید نه په ذکرد احتیاج دَ هغوی اوعاجزی کول دَ هغوی اللّٰه تعالیٰ ته اوذکرد حال دَ

يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَيْبِ وَهُمْ مِّنَ السَّاعَةِ مُشْفِقُوْنَ ﴿۴۹﴾ وَهٰذَا ذِكْرٌ مُّبٰرَكٌ اَنْزَلْنٰهُ ؕ اَفَاَنْتُمْ
لَهٗ مُنْكِرُوْنَ ﴿۵۰﴾ وَلَقَدْ اٰتَيْنَآ اِبْرٰهِيْمَ رُشْدَهٗ مِنْ قَبْلُ وَكُنَّا بِهٖ عٰلِمِيْنَ ﴿۵۱﴾ اِذْ قَالَ لِاَبِيْهِ وَقَوْمِهٖ
مَا هٰذِهِ التَّمَاثِيْلُ الَّتِيْٓ اَنْتُمْ لَهَا عٰكِفُوْنَ ﴿۵۲﴾ قَالُوْا وَجَدْنَآ اٰبَآءَنَا لَهَا عٰبِدِيْنَ ﴿۵۳﴾ قَالَ لَقَدْ كُنْتُمْ

چه ویریږی دَ رب خپل نه په حال دَ نه لیدلو کښ او دوی دَ قیامت نه هیبت زده دی (۴۹) اودا یاداشت دے برکتونو والا نازل کړیدے مونږ دے ایا تاسو دا نا آشنا کنړئے (۵۰) او یقیناً ورکړے وه مونږ ابراهیم(علیه السلام) ته پوهه دَ دین دَ مخکښ نه او وؤ مونږ دَ دهٔ په حال باندے پوهه لرونکی (۵۱) کوم وخت چه اُوئیل ئے پلار اوقوم خپل ته څه دلیل دے دَ دے شکلونو (په عبادت کولو باندے) چه تاسو دے لره همیشه عبادت کوئ (۵۲) دوی اُوئیل موندلی دی مونږ مشران خپل دوی لره عبادت کوونکی (۵۳) اُوئیل ابراهیم(علیه السلام) یقیناً وئے

انبیاؤ اجمالا په (۹۰) کښ بیا یؤولسم زجردے په(۹۳) کښ۔ په دے (۴۸) ایت کښ دلیل نقلی دے دَ موسیٰ اوهارون علیهما السلام نه اوتفصیل ئے په سورة طٰهٰ کښ تیر شویوؤدَ دے وجے نه دلته ئے مختصرذکرکړو، دَکتاب الٰهی کمال دا دے چه په هغے کښ دلیلونه دپاره دَفرق دَحق اوباطل وی اوپه هغے کښ بنکاره مسائل اواحکام وی اوپه هغے کښ مواعظ اوامثال او واقعات دی دَپاره دَ تثبت دَ ایمان والواودا درے صفات په تورات کښ هم وؤ ﴿لِلْمُتَّقِيْنَ﴾ تخصیص دَ دوی دَ وجے دَ انتفاع احستلونه دے۔

[۴۹] دا هغه صفات دَ متقیانودی چه دَ هغے په وجه دَ اللّٰه تعالیٰ دَکتاب نه ذکرحاصله وی ﴿يَخْشَوْنَ﴾ خشیة: ویره دَ زړه ده سره دَ تعظیم دَ مخشیٰ نه (چه دَ چانه ویره کوی) اواشفاق، نرمی دَ زړه ده دَ وجے دَ ویرے اودَ محبت اوخیرخواهئی چه دَ هغے اثر اندامونو باندے بنکاره کیږی ﴿بِالْغَيْبِ﴾ نه مراد دادے چه دَ خلقونه غائب اوپټ وی نو ویره کوی دَ اللّٰه تعالیٰ ته اوبنکاره کښ خوضرورکوی دویم مراد دادے چه اللّٰه تعالیٰ ئے لیدلے نه دے اوحال داچه دَ هغه نه ویره کوی۔

[۵۰] دا ترغیب دے قرآن کریم ته مطلب دا دے لکه څه رنګ چه تورات دَ ذکر دَپاره نازل کړے شویوؤ نو قرآن هم دَ ذکر دَپاره نازل شویدے نو ولے دَ دے نه انکار کوئے۔

[۵۱] دَ دے ایت نه تر(۷۳) پورے دلیل نقلی دے دَ ابراهیم(علیه السلام) نه دَپاره دَ تذکیردَغافلینودَ توحید نه په بیان دَ مجاهدے کولو دَ ابراهیم(علیه السلام)په مقابله دَمشرکینوکښ دَ﴿رُشْدَهٗ﴾ نه مراد نبوت دے او﴿مِنْ قَبْلُ﴾ نه مراد دا دے چه دَموسیٰ اوهارون علیهما السلام نه مخکښ۔ یا دَ رشدنه مراد ایمان اوتوحید دے اومن قبل نه مراد مخکے دَبالغ کیدلونه اودَ دے نه معلومه شوه چه هغه قصے چه بعض مفسرینو لیکلی دی چه ابراهیم(علیه السلام) په غارکښ وؤاوبیا را ووتلو اورب ئے نه پیژندلونو کله ستوری ته ئے رب وئیل او کله سپوکمئے اونمرته نودا ټول اسرائیلیات دی او دَ دے ایت نه خلاف دی۔

[۵۲] په دے ایت کښ بیان دَرشد دے چه هغه ردکول دی په شرك باندے اګرچه هغه په پلارکښ موجودوی ﴿مَا هٰذِهِ﴾ نه مراد تپوس دَ دلیل اودَعلت دَعبادت کولودَ هغوی دے یامرادترینه بیان دَ حقیقت دَ هغوی دے چه دا مصنوعات اومخلوقات دی حقدارد بندګئی نشی کیدلے ﴿التَّمَاثِيْلُ﴾ جمع دَ تمثال ده

اَنْتُمْ وَاٰبَآؤُكُمْ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۵۴﴾ قَالُوْٓا اَجِئْتَنَا بِالْحَقِّ اَمْ اَنْتَ مِنَ اللّٰعِبِيْنَ ﴿۵۵﴾ قَالَ بَلْ رَّبُّكُمْ
رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الَّذِيْ فَطَرَهُنَّ ۖ وَاَنَا عَلٰى ذٰلِكُمْ مِّنَ الشّٰهِدِيْنَ ﴿۵۶﴾ وَتَاللّٰهِ لَاَكِيْدَنَّ
اَصْنَامَكُمْ بَعْدَ اَنْ تُوَلُّوْا مُدْبِرِيْنَ ﴿۵۷﴾ فَجَعَلَهُمْ جُذٰذًا اِلَّا كَبِيْرًا لَّهُمْ لَعَلَّهُمْ اِلَيْهِ يَرْجِعُوْنَ ﴿۵۸﴾

تاسو او مشران ستاسو په ګمراهئ ښکاره کښ (٥٤) دوی اُوئیل ایا تاسونږ ته حق راوړے دے او که ته ئے دَ ټوقو کؤونکونه (٥٥) دهٔ اُوئیل بلکه رب ستاسو رب دَ اسمانونو او دَ زمکے دے هغه ذات چه دائے دَ اول نه پیداکړیدی او ځه په دے باندے تاسوته دَ خبر درکؤونکونه یم (٥٦) اوقسم په اللّٰه تعالیٰ خامخا چل جوړوَمه ستاسو معبودانو ته روستو دَ دے نه چه اوګرځوئے تاسو شاکؤونکی (٥٧) پس ګرل ئے هغه ټوټے ټوټے بغیر دَ غټ دَ هغوی نه دَ دے دپاره چه دوی هغه ته اوګرځی (٥٨)

هغه ځیزته وائی چه جوړ کړے شی مشابه دَ یومخلوق سره اوقوم دَ ابراهیم علیه السلام څه تماثیل دَ ستورو جوړ کړی وؤاوخه دَ نیکانوبندګانو ﴿عٰكِفُوْنَ﴾ عکوف په معنیٰ دَ لازم نیول دَیوځیزدی او توجه کول هغه ته په طریقه دَ تعظیم اودَ بندګئے سره۔

[٥٣] یعنی دوی په شرك کښ صرف تقلیدکوؤدَ مشرانوخپلواوهیڅ دلیل ورسره نوؤ او دازوړ دلیل دے دَمشرکانوپه هره زمانه کښ۔

[٥٤] لفظ دَ انتم دلیل دے چه په تقلید دَباطل سره مقلدهم ګمراه شونودا سبب دَ نجات نه دے۔ ابن کثیر وئیلی دی حاصل دا دے چه ستاسو دَ اباؤنه هم دلیل غواړو لکه چه ستاسو نه غواړو۔

[٥٥] یعنی آیاته په دلیل سره خبره کوے اوکه خبره عبث (بے دلیله) کوے یعنی ته مونږته دلیل اوخایه۔

[٥٦] یعنی ماسره دلیل دے په توحید دَ اللّٰه تعالیٰ یوداچه هغه مالك دَ اسمانونواودَ زمکے دے۔ دویم دا چه خالق دَ دوی دے۔ اوتوحید دَ ربوبیت مستلزم دے توحید دَ الوهیت لره شرعاً اوعقلا ﴿الشّٰهِدِيْنَ﴾ نه مراد بیان کوؤنکے په دلیل سره۔

[٥٧] ابراهیم علیه السلام دَ دعوت دَ ژبے نه بعد انتقال اوکړو مجاهدے عملی ته دَ وجے دَ ډیروثوق (اعتماد) نه په اللّٰه تعالیٰ باندے اودَ وجے دَ ډیرغیرت نه په دین باندے اوبل سبب داهم کیدیشی چه قوم دَ ابراهیم علیه السلام دعوت ته هیڅ توجه نه کوله نودا عمل ئے دَ دے وجے نه اوکړوچه هغوی دَ دهٔ طرف ته توجه اوکړی نودے به ئے په توحید باندے بنه پوهه کړی لکه روستو ایت کښ دَ اِلَيْهِ يَرْجِعُوْنَ یوه توجیه داده۔ اودا قسم ابراهیم علیه السلام دَ ځان سره په پټه باندے وئیلے وؤ۔ یا بعض کسانودَ هغوی اوریدلے وؤ ﴿مُدْبِرِيْنَ﴾ نه مراد دا دے چه تاسوخپلے میلے ته لاړشئی اودرګاه دَ معبودانوستاسو خالی شی ځکه چه دوی خپل سالانه جشن یا عرس له تلل او ابراهیم علیه السلام ترینه پاتے شوپه عذردَ سقیم سره۔

[٥٨] دَ دے واقعے بعض حصه په سورة صافات کښ ذکرشویده ﴿كَبِيْرًا﴾ کښ اشاره ده چه دوی خپل معبودان په تفاوت سره جوړ کړی وؤ بعضِ واړه اوبعضِ غټ یا داچه بعضے ئے دَ وړو کارونوذمه دارکنړل اوبعضِ ئے دَغټوحاجتونو پوره کوؤنکی کنړل ﴿لَعَلَّهُمْ اِلَيْهِ يَرْجِعُوْنَ﴾ یو معنیٰ دا چه داکار ئے دَ دے دپاره اوکړوچه دوی دَ ابراهیم علیه السلام دین ته یا دَ هغه دعوت ته رجوع اوکړی اوهغه ته غوږ کیدی۔

قَالُوۡا مَنۡ فَعَلَ هٰذَا بِاٰلِهَتِنَاۤ اِنَّهٗ لَمِنَ الظّٰلِمِيۡنَ ﴿۵۹﴾ قَالُوۡا سَمِعۡنَا فَتًى يَّذۡكُرُهُمۡ يُقَالُ لَهٗۤ
اِبۡرٰهِيۡمُ ﴿۶۰﴾ قَالُوۡا فَاۡتُوۡا بِهٖ عَلٰۤى اَعۡيُنِ النَّاسِ لَعَلَّهُمۡ يَشۡهَدُوۡنَ ﴿۶۱﴾ قَالُوۡۤا ءَاَنۡتَ فَعَلۡتَ هٰذَا بِاٰلِهَتِنَا
يٰۤاِبۡرٰهِيۡمُ ﴿۶۲﴾ قَالَ بَلۡ فَعَلَهٗ ۖ كَبِيۡرُهُمۡ هٰذَا فَسۡـَٔلُوۡهُمۡ اِنۡ كَانُوۡا يَنۡطِقُوۡنَ ﴿۶۳﴾ فَرَجَعُوۡۤا اِلٰۤى اَنۡفُسِهِمۡ

اُوئیل دوی چاکړے دے داکار زمونږ دَ معبودانو سره یقیناً دے دَ ظالمانونه دے (۵۹) دوی اُوئیل اوریدلی دی مونږ دَ یو ځوان نه چه دَ دوی بدی وئیله وئیلے کیدے شی هغه ته ابراهیم(علیه السلام) (۶۰) اُوئیل دوی پس راولئ هغه مخامخ دَ سترګو دَ خلقو دپاره دَ دے چه دوی ئے تماشا اوکړی (۶۱) دوی اُوئیل ایا تا کړے دے داکار زمونږ دَ معبودانو سره اے ابراهیم(علیه السلام) (۶۲) اُوئیل هغه بلکه کړے دے لوی دَ دوی نه چه دا دے پس تپوس اوکړئ دَ دوی نه که خبرے کولے شی (۶۳) پس اوګرځیدل دوی خپلو ځانونو ته (په سوچ کولو سره)

دویمه معنیٰ داچه دا لوئے ئے دَ دے وجے نه پریخودلو چه دوی دغه لوی ته رجوع اوکړی اودَهغه نه تپوس اوکړی (نودَ دوی جهل به ښه ښکاره شی)۔

[۵۹] دوی دَ خپلے عقیدے باطلے په وجه مؤحدته ظالم او وئیل او تفتیش اوبحث ئے شروع کړو دَ دے عمل کوؤنکی۔

[۶۰]دا جواب دے دَ هغه کسانوچه هغوی دَ ابراهیم علیه السلام نه قال لاکیدنٌ اوریدلے وؤاو ﴿يَذۡكُرُهُمۡ﴾ نه مراد هم دغه قسم دے په لاکیدن سره یا داجواب دَټولودَ طرف نه دے چه ابراهیم علیه السلام دَ دے معبودانوعیبونه او نقصانونه ذکرکول نومعلومیږی چه داکاربه هغه کړے وی۔ اویَذۡكُرُهُم، نه مراد کنځل کول اوعیبونه بیانول دی او ﴿فَتًى﴾ دلیل دے چه ابراهیم علیه السلام دَ ځوانئ په عمرکښ وؤیا دا چه داکار دَ قوّت او زور والو دے۔

[۶۱] ﴿يَشۡهَدُوۡنَ﴾ نه مراد شهادت دَ خلقو دے دپاره دَاثبات دَ دے دعوے یعنی هغوی په خپل قانون کښ دَ دعویٰ دَ ثبوت دپاره ګواهی لازم ګنړله لکه چه شرعاً هم دا حکم دے۔ یا مراد دا دے چه دا خلق دَ دهٔ سزاته حاضرشی تماشه اوکړی چه عبرت واخلی اودا مقصد دَ ابراهیم علیه السلام وؤ لکه چه مخکے ذکر شول۔

[۶۲] اول تپوس دَ هغه نه دَ دے وجے نه کوی که دے اقرار اوکړی نوشهادت ته به حاجت رانشی ځکه چه مدعی علیه په اقرارسره نیولے کیږی۔

[۶۳] حدیث دَ صحیحین اوترمذی کښ ذکرشویدی چه دا لفظ دَ ابراهیم علیه السلام دَکذباتو (یعنی معاریض اوتورئیے) نه دے یعنی دوه معانے لری یومعنیٰ ظاهری دَ مخاطبینودَ فهم مطابق اوبله معنیٰ دَمتکلم دَ مراد موافق اوداسے کلام کذب (دروغ) نه دی ځکه دروغ ګناه ده اوانبیاء علیهم السلام دَګناهونونه پاك دی۔ نودَکذب تعبیر په دے حدیث کښ دَ راوی دَطرف نه دے دَ رسول اللّٰه ﷺ نه نه دے لکه چه دا قول امام رازی کړے دے اودے ته روایت بالمعنیٰ وئیلے کیږی۔ یا دَکذب اطلاق په اعتباردَ ظاهرسره دے فقط مجازاً نه په معنیٰ حقیقی سره اودلیل په دے باندے قول دَ ابراهیم علیه السلام دے خپلے ښی ښی ته روستودَ قول دَ هغه نه (انك اختی) اختی فی کتاب اللّٰه۔ اوپه دے جمله کښ ګنړتوجیهات دی۔ اوله توجیه چه فعل دَکبیر ئے معلق اومشروط کړے دے په نطق دَ نورومعبودانوسره اوهغوی خودَ نطق نه عاجز دی نوشرط موجود نه شو۔

فَقَالُوْٓا اِنَّكُمْ اَنْتُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿٦٤﴾ ثُمَّ نُكِسُوْا عَلٰى رُءُوْسِهِمْ ۚ لَقَدْ عَلِمْتَ مَا هٰٓؤُلَآءِ يَنْطِقُوْنَ ﴿٦٥﴾ قَالَ
اَفَتَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَنْفَعُكُمْ شَيْـًٔا وَّلَا يَضُرُّكُمْ ﴿٦٦﴾ اُفٍّ لَّكُمْ وَلِمَا تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ
اللّٰهِ ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿٦٧﴾ قَالُوْا حَرِّقُوْهُ وَانْصُرُوْٓا اٰلِهَتَكُمْ اِنْ كُنْتُمْ فٰعِلِيْنَ ﴿٦٨﴾ قُلْنَا يٰنَارُ كُوْنِيْ بَرْدًا

پس اُوئیل دوی یقیناً تاسو ظالمان ئے (٦٤) بیا اپوټه شول په خپلو سرونو باندے (اُوئیل ئے) یقیناً ته پوهیږے چه دوی خبرے نشی کولے (٦٥) اُوئیل ابراهیم(علیه السلام) ایا پس بندگی کوئ تاسو سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه دَ هغه چاچه نفع نشی درکولے تاسو ته هیڅ اونه نقصان در رسولے شی (٦٦)بد ګنړم ځه تاسو اوبندګی دَ هغه چا چه بندګی کوئ دَ هغوی سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه ایا پس عقل نه لرئ (٦٧) اُوئیل دوی اوسیزئے دهٔ لره او بدل واخلئ دَ معبودانو خپلو که تاسو څه کار کوئ (٦٨) اُوئیل مونږ اے اوره شه ته یخ

نوپه دے کښ حجت دے دَپاره دَ رد دَ شرط دَهغوی اوپه ضمن دَ دے کښ اقرار دے په ځان باندے چه دا ماکړے دے۔ دویمه توجیه داده چه بل په معنیٰ دَ استفهام دے یعنی ایا داکړے دے دے غټ۔ نوهم ضمناً اعتراف دے۔ دریمه توجیه دا ده چه فاعل دَفعله محذوف دے اوداحذف بغیرد قائمقام نه جائزدے په نیز دَکسائی باندے۔ اودَ کَبِیْرُهُمْ نه دَ سره جمله شروع ده۔ ځلورمه توجیه کَبیرنه مراد دَ ابراهیم(علیه السلام) په نیزاللّٰه تعالیٰ دے اودا قوم هم قائل وؤپه کبریا دَاللّٰه تعالیٰ باندے لکه چه شعرانی په الیواقیت والجواهرکښ ذکرکړی دی یعنی داکار اللّٰه تعالیٰ کړے دے (یعنی نبی په امردَ اللّٰه تعالیٰ سره کړیدے)۔

[٦٤] دَ دے نه مراد دا دے چه دوی دَ ځانونوسره سوچ اوفکرشروع کړوپه شان دَ هغه چاچه په بحث کښ دَ حجت نه عاجزشی اودَخصم دلیل صحیح اوګنړی نوپه ځان باندے ئے اقرار دَ ظلم اوکړو ځکه چه شرك ظلم دے یا دَ الظالمون نه مراد دَ دوی دا دے چه تاسو دا معبودان بغیر دَ څوکیدارنه پریخودلی څوك حفاظت کوؤنکے نه وؤ ۔ او مشهوره جمله ده من لایرد عن رأسه الفأس کیف یدفع عن عابدیه البأس۔ ترجمه: څوك چه دَ ځان نه تبر نشی واپس کولے نو هغه به دَ خپلو عبادت کوؤنکو سختی څه رنګ دفع کړی۔

[٦٥] دا شیطانی تسلُّط دے اوعدم توفیق دَ ایمان دے چه پس دَپوهے نه په ضد اوعنادکښ اودریدل اوپه کوزسرونو روانیدل کنایه ده دَ ضدکولو نه یا دَ ملامتیانه یا دَ حیرانتیانه۔

[٦٦] هرکله چه دوی اقرار اوکړو چه دا معبودان خبرے نشی کولے نوابراهیم(علیه السلام) په دوی باندے حجت اودلیل قائم کړو چه په نطق قدرت نه لری نواختیارمند دَ نفعے اوضررهم نشی کیدے نوحقداردَعبادت نشی کیدے۔

[٦٧] ﴿اُفٍّ﴾ دا لفظ په اصل کښ استعمالیږی په وخت دَ لیدلودَ کنده خیزونوکښ نوبیا مستعملیږی په کنده (باطلو) خبروکښ یعنی دَ هغے نه په نفرت کولواوخفګان کولواوبیزارکیدلوکښ۔ اودلته مراد دا دے چه بیزاریم څه ستاسونه اودَ بندګئ دَ هغه معبودانونه چه تاسودَ هغوی بندګی کوئ سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه نوداکلمه دَ برائت ده کنځل نه دی معبودانوته لکه چه په سورة زخرف (٢٦) اوسورة ممتحنة (٤) کښ دی۔

[٦٨] هرکله چه دَ دلیل دَپیش کولونه عاجزشول بیا په ضد باندے شروع شول نودَ ابراهیم(علیه السلام) دَ قتل اودَ سوزولومشوره ئے اوکړله لکه سورة عنکبوت(٦٤) کښ دی او اخری فیصله ئے دَهغه دَسوزولواوکړله اودے ته دوی دَخپلومعبودانوبدله اخستل وائی یعنی ابراهیم(علیه السلام) دَ دے معبودانوبے عزتی کړے ده نومونږ

وَّسَلٰمًا عَلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ ﴿٦٩﴾ وَاَرَادُوْا بِهٖ كَيْدًا فَجَعَلْنٰهُمُ الْاَخْسَرِيْنَ ﴿٧٠﴾ وَنَجَّيْنٰهُ وَلُوْطًا اِلَى الْاَرْضِ الَّتِيْ
بٰرَكْنَا فِيْهَا لِلْعٰلَمِيْنَ ﴿٧١﴾ وَوَهَبْنَا لَهٗٓ اِسْحٰقَ ؕ وَيَعْقُوْبَ نَافِلَةً ؕ وَكُلًّا جَعَلْنَا صٰلِحِيْنَ ﴿٧٢﴾

او برابر حال والا په ابراهیم(علیه السلام) باندے (٦٩) او کوشش اوکړو دوی دَهغه دَ سیزلو پس اوګرځولو مونږ دوی لره تاوان والا (٧٠) اوبچ کړو مونږ دے اولوط (اولیږل مونږ دوی) هغه ملك ته چه برکات ایښې دی مونږ په هغے کښ خلقو لره (٧١) او اوبخښو مونږ دهٔ ته اسحق او یعقوب زیاتی او داټول ګرځولی وؤ مونږ پوره نیکان (٧٢)

دَهغوی بدل اخلو۔ دا ډیره بے عقلی دَمشرکانوده چه څوك ناصرګنړی نواوس دَ هغه نصرت کوی او نصرت ته ئے محتاج ګنړی ﴿اِنْ كُنْتُمْ فٰعِلِيْنَ﴾ یعنی که څه کاردَ ابراهیم(علیه السلام) سره کوئے نوصرف داکار (سوزول) اوکړئے۔

[٦٩] حاصل دا چه دوی اور بل کړو اودَ هغے دپاره به دوی خشاك او لرګی په ډیرمحبت سره راوړل بلکه نذرونه به ئے کول که زمونږفلانے حاجت پوره شی نودَ ابراهیم دَ سوزولودَپاره به دومره مقدار لرګی راوړم لکه چه ابن کثیر لیکلی دی یعنی دا دوی دَ وجے دَ نصرت دَ خپلو آلهو لوئے عبادت ګنړلو لیکن اللّٰه تعالیٰ هغه اور ته خطاب اوکړو او اللّٰه تعالیٰ خپل کلام هر څیزته اور ولے شی او دادلیل دے چه دَ اسبابو تاثیر په اذن دَ اللّٰه تعالیٰ سره دے او په حدیث دَ صحیح بخاری کښ دی چه ابراهیم(علیه السلام) په هغه وخت کښ وئیل حسبی اللّٰه ونعم الوکیل ﴿وَسَلٰمًا﴾ ئے ځکه اوفرمائیل چه دَ ډیریخ کیدلوپه وجه ابراهیم(علیه السلام) هلاك نشی او ﴿عَلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ﴾ ئے ځکه اوفرمائیل چه نوروخلقوباندے یخ نشی۔ اومفسرآلوسی تفسیر روح المعانی کښ لیکلی دی حاصل ئے دا دے چه داخو معجزه ده دَ ابراهیم(علیه السلام) او که په دے امت کښ دَ بعضِ صالحینوخلقو دپاره داسے حال پیداشی نودا به دَ هغوی کرامت وی اوخوك چه اوازکوی چه یا شیخ احمد یا رفاعی او اورپه لاس کښ اونیسی اونه ئے سوزوی نو دا استدراج دے لکه چه دَ دجال نه به هم دَ دے په شان ډیر حالات سکاره کیږی۔ او بعضِ فریب ګرپه خپل لاس داسے مواد اولګوی چه اور پرے اثر نه کوی او خلقوته وائی دا ځما کرامت دے لیکن دا دهوکه ده۔

[٧٠] ﴿الْاَخْسَرِيْنَ﴾ په دے وجه سره ئے او فرمائیل چه دوی مالونه خرچ کړل او وخت ئے هم خرچ کړو لیکن هغه ضائع شول اوداخسران اوتاوان دے اوسورة صافات (٩٨) کښ (الاسفلین) اوفرمائیل ځکه چه دوی تکبرکړے وؤ لفظ دَ ﴿يَزِفُّوْنَ﴾ په هغے دلیل دے نو هرکله چه پرے شول نو ذلیل اوسپك شول۔

[٧١] سورة عنکبوت (٢٦) کښ ذکر دی چه نارینوکښ صرف لوط(علیه السلام) دَ ابراهیم(علیه السلام) سره دَ ایمان اعلان اوکړو ځکه دے ایت کښ دَ هغه نجات اوهجرت ئے دَ ابراهیم(علیه السلام) سره ذکرکړلواودَ مبارکے زمکے نه مراد دَ شام زمکه ده ځکه چه دَ هغے دنیوی برکات باغونه فصلونه میوے ډیر مشهورے دی اودینی برکات په کښ کثرت دَ انبیاؤ علیهم السلام دے اومقام دَ نزول دَ عیسیٰ(علیه السلام) دے۔

[٧٢] په دے ایتونوکښ دلیل نقلی دے دَ اسحاق اویعقوب علیهم السلام نه، دَ هغوی عبدیت اواحتیاج اللّٰه تعالیٰ ته زمونږ دَ تذکیردپاره ئے ذکرکړے دے ﴿نَافِلَةً﴾ په اولاد کښ ولد الولدته وائی یعنی زیاتی دے په

وَجَعَلْنٰهُمْ اَىِٕمَّةً يَّهْدُوْنَ بِاَمْرِنَا وَاَوْحَيْنَآ اِلَيْهِمْ فِعْلَ الْخَيْرٰتِ وَاِقَامَ الصَّلٰوةِ وَاِيْتَآءَ
الزَّكٰوةِ ۚ وَكَانُوْا لَنَا عٰبِدِيْنَ ﴿٧٣﴾ وَلُوْطًا اٰتَيْنٰهُ حُكْمًا وَّعِلْمًا وَّنَجَّيْنٰهُ مِنَ الْقَرْيَةِ الَّتِىْ كَانَتْ
تَّعْمَلُ الْخَبٰٓئِثَ ۭ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمَ سَوْءٍ فٰسِقِيْنَ ﴿٧٤﴾ وَاَدْخَلْنٰهُ فِىْ رَحْمَتِنَا ۭ اِنَّهٗ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿٧٥﴾ ع

اوګرځول مونږ دوی امامان (دَ دین) چه بیان ئے کړو دَ دین زمونږ او وحی کړے ده مونږ دوی ته دَ کولو دَ نیکو کارونو او دَپابندئ کولو دَ مونځ او دَ ورکولو دَ زکوٰة او ژوند دوی مونږ لره عبادت کوونکی (٧٣) او یاد کړئ لوط ورکړے وه مونږ هغه ته پیغمبری او پوهه دَ دین اوبچ کړے ژوند مونږدهٔ لره دَ هغه کلی والونه چه هغوی کول پلیت کارونه یقیناً دوی ژوند قوم دَ بدئے نافرمان (٧٤) او داخل کړو مونږ دهٔ لره په خاص رحمت زمونږ کښ یقیناً دے ژوند دَ پوره نیکانونه (٧٥)

اولاد صلبی باندے ﴿جَعَلْنَا﴾ یعنی دوی صلاحیت کښ اوپه طاعت کولوکښ اللّٰه تعالیٰ ته محتاج دی نومعلومه شوه چه طاعت اوقدرت دَبنده په طاعت باندے دا ټول مخلوق دَ اللّٰه تعالیٰ دے۔

[٧٣] په دے آیت کښ دَ هغوی عبدیت اواللّٰه تعالیٰ ته دَ هغی احتیاج ئے ذکر کړے دے۔ اودلته مراد دَ امامت نه نبوت دے او معلومه شوه چه دَ امام فریضه دعوت دے دین دَ اللّٰه تعالیٰ ته ﴿وَاَوْحَيْنَآ﴾ دا دلیل دے چه امام وی اوکه نبی وی اوکه ولی وی لیکن هغه هم مکلف وی په بندګئ کولودَ اللّٰه تعالیٰ سره په موافق دَ وحی سره ﴿الْخَيْرٰتِ﴾ ټول خصلتونه چه حُسن دَ هغے په وحی سره ثابت وی ﴿وَاِقَامَ الصَّلٰوةِ وَاِيْتَآءَ الزَّكٰوةِ﴾ کښ تخصیص بعد التعمیم دے دَ ډیراهمیت دَ وجے نه ځکه چه دا هم په فعل الخیرات کښ داخل دی او ﴿عٰبِدِيْنَ﴾ کښ اشاره ده چه دوی دَا للّٰه تعالیٰ دَحکمونوامتثال کوؤعصیان اوګناه ئے نه کوؤ اوپه دے کښ دعویٰ دَ سورة ته اشاره ده۔

[٧٤] په دے آیتونوکښ دلیل نقلی دے دَ لوط علیه السلام نه په احتیاج دَ دهٔ اللّٰه تعالیٰ ته دَپاره دَتذکیردَ توحید۔ حاصل دا چه لوط علیه السلام په نبوت اوعلم اونجات اورحمت کښ اللّٰه تعالیٰ ته محتاج ووٴ ﴿الْخَبٰٓئِثَ﴾ نه مراد دَ نارینواستعمال دے اومیلمنو پورے مسخرے کول اوپه کانړو ویشتل سره دَشرك اوکفرنه ﴿قَوْمَ سَوْءٍ﴾ نه مراد داسے قوم دے چه دَ بدئے اودَګناه په کارونو کښ خاص وی۔ دَ نیك عمل کولونه محروم وی۔ هرکله چه په داسے قوم کښ اوسیدل هم دَمؤمنانودپاره مصیبت دے نودَ هغے نه نجات ورکول دَ اللّٰه تعالیٰ نعمت دے ﴿فٰسِقِيْنَ﴾ فسق دَعقیدے اودَ عمل دواړه مراد دے۔

[٧٥] ﴿رَحْمَتِنَا﴾ نه مراد بچ کول دَ هغه عذاب نه دی کوم چه په دغه قوم باندے رالیږلے شوے وو اوسبب دَ نجات صالحیت کامله دے او ﴿الصّٰلِحِيْنَ﴾ مقابل دَ سوءٍ او دَ فاسقین دے۔

وَنُوْحًا اِذْ نَادٰى مِنْ قَبْلُ فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ فَنَجَّيْنٰهُ وَاَهْلَهٗ مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيْمِ ﴿۷۶﴾ وَنَصَرْنٰهُ مِنَ
الْقَوْمِ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا ؕ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمَ سَوْءٍ فَاَغْرَقْنٰهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿۷۷﴾ وَدَاوٗدَ وَ
سُلَيْمٰنَ اِذْ يَحْكُمٰنِ فِى الْحَرْثِ اِذْ نَفَشَتْ فِيْهِ غَنَمُ الْقَوْمِ ۚ وَكُنَّا لِحُكْمِهِمْ شٰهِدِيْنَ ﴿۷۸﴾
فَفَهَّمْنٰهَا سُلَيْمٰنَ ۚ وَكُلًّا اٰتَيْنَا حُكْمًا وَّعِلْمًا ۪ وَّسَخَّرْنَا مَعَ دَاوٗدَ الْجِبَالَ يُسَبِّحْنَ وَالطَّيْرَ ؕ وَكُنَّا

(اویاد کړئ) نوح(علیه السلام) کله چه فریاد ئیے کړے ژو (رب ته) دَ دے نه مخکښ نو قبوله کړه مونږ دُعا دَ هغه پس بچ کړو مونږ دے او کورنئی دَ دهٔ دَ غم لوئ نه (۷۶) اوبدله واخستله مونږ دهٔ لره دَ هغه قوم نه چه دروغژن ئے ګنړل ایا تونه زمونږ یقیناً دوی ژو قوم دَ بدئے نو غرق کړل مونږدوی ټول په یوځائے (۷۷) او (یاد کړئے) داؤد(علیه السلام) او سلیمان(علیه السلام) کله چه دوی فیصله کوله په باره دَ فصل کښ چه (دَشپے) څریدلے وے په هغے کښ ګډے ویزے دَ یو قوم او مونږ ژو دَ هغوی په فیصله باندے خبر لرونکی (۷۸) پس پوهه ورکړه مونږ دَ هغه فیصلے سلیمان(علیه السلام) ته او هر یو لره ورکړے وه مونږ پیغمبری او پوهه دَ دین او تابع کړی ژو مونږ سره دَ داؤد(علیه السلام) نه غرونه تسبیح ئے وئیله او مارغان هم او مونږ دا کار

[۷۶] په دے ایتونو کښ دلیل نقلی دے دَ نوح(علیه السلام) په احتیاج الی اللّٰه سره دپاره دَتذکیرد توحید۔ اوپه دے ایت کښ تصریح ده چه نوح(علیه السلام) هم په حاجت اومصیبت کښ صرف اللّٰه تعالیٰ ته فریادپیش کړے دے او ﴿نَادٰى﴾ په هغه ځائے کښ استعمالیږی چه نهایت عجزاو ژړا فریادوی اوتفصیل دَ نداء دَ هغه په سورة قمر (۱۰) اوپه سورة نوح کښ دے ﴿اَهْلَهٗ﴾ کښ اشاره ده چه مؤمنان په هغه وخت صرف دَ دهٔ کورنئے اواولاد وؤ ﴿الْكَرْبِ الْعَظِيْمِ﴾ نه مراد عذاب دَ غرق دے په لوئے طوفان دَ اوبو کښ۔ یا تکذیب اوتکلیفونه دَ طرف دَ قوم نه۔

[۷۷] مراد دَ نصرت نه انتصاراو انتقام اخستل دی ځکه چه هغه قوم دَ دهٔ پیره بے عزتی کړے وه پیرظلم ئے کړے وؤ نوځکه دَ بدل اخستلوذکر ئے اوکړو۔

[۷۸] دے ایتونوکښ دلیل نقلی دَ داؤد(علیه السلام) اوسلیمان(علیه السلام) نه دے چه دوی په احکام تشریعیه کښ اومعجزاتوکښ اللّٰه تعالیٰ ته محتاج وؤ۔ معلومه شوه لکه چه مخلوق اللّٰه تعالیٰ ته په امورتکوینیوکښ محتاج دے نوپه احکام شرعیوکښ هم اللّٰه تعالیٰ ته محتاج دی ﴿نَفَشَتْ﴾ نفش په معنیٰ دَځریدلودے په شپه کښ بغیرد راعی نه کوم ځاروی چه په فصل کښ دَ ورځے او ځریږی نوتاوان په ځار وو والاباندے نیشته (هرکله چه دا مالك ورسره نه وی) اوکه دَ شپے او ځریکی نوتاوان په مالك دَ ځار وؤ باندے شته اګرچه مالك ورسره نه وی اوابن جریرداسے فیصله قاضی شریح نه نقل کړیده ﴿وَكُنَّا لِحُكْمِهِمْ شٰهِدِيْنَ﴾ دلیل دے چه اللّٰه تعالیٰ حاضراوناظردے۔ لِحکمِهِمْ، جمع په معنیٰ دَ تثنیه سره ده یا پخپله معنیٰ سره ده ځکه چه مدعی اومدعا علیه په کښ داخل دی۔

فٰعِلِيْنَ ﴿۷۹﴾ وَعَلَّمْنٰهُ صَنْعَةَ لَبُوْسٍ لَّكُمْ لِتُحْصِنَكُمْ مِّنْۢ بَاْسِكُمْ ۚ فَهَلْ اَنْتُمْ شٰكِرُوْنَ ﴿۸۰﴾ وَلِسُلَيْمٰنَ
الرِّيْحَ عَاصِفَةً تَجْرِيْ بِاَمْرِهٖۤ اِلَى الْاَرْضِ الَّتِيْ بٰرَكْنَا فِيْهَا ؕ وَكُنَّا بِكُلِّ شَيْءٍ عٰلِمِيْنَ ﴿۸۱﴾ وَمِنَ

کؤونکی ؤو (۷۹) او خودلے ؤو مونږ هغه ته جوړول دَ زغرو تاسو لره چه بچ ساتی تاسو دَ جنګ ستاسونه پس ایا تاسو شکر کؤونکی ئیے (۸۰) (اوتابع کړے وه مونږ) سلیمان(علیه السلام) لره هوا تیزه روانه به وه په حکم دَ هغه سره هغه ملك ته چه برکات اچولی دی مونږ په هغے کښ او ؤومونږ په هرشیز باندے علم لرونکی (۸۱) (اوتابع کړی ؤومونږ) دَ

[۷۹] یعنی داؤد علیه السلام اراده اوکړه چه مالك دَ فصل ته ټولے ګلمے بیزے ورکړی ځکه دهٔ ته معلومه شوه چه قیمت دَ هغے دَ فصل دَ قیمت سره برابر دے۔ اوسلیمان علیه السلام فیصله اوکړه چه مالك دَ فصل ته ګلمے بیزے ورکړی چه هغه ترینه فائده اخلی ترهغه وخت پورے چه مالك دَګلمو بیزو دَ فصل تربیت اوکړی تردے پورے چه زورحالت ته اورسی اوپه دے فیصله کښ دَ دواړه جانبو خیراوفائده وه۔ اودا سلیمان علیه السلام ته الله تعالیٰ اوخودله دَپاره دَ دے چه دَ دهٔ فضیلت اوعلم پلارته ښکاره شی نو هغه به خوشحاله شی ځکه چه پلارد اولادپه ترقئ سره خوشحالیږی۔ اوداؤد علیه السلام خطاشوے نوؤ فیصله کښ ځکه چه هغه صرف اراده کړے وه فیصله ئے لانه وه کړے۔ بل داچه که فیصله ئے کړی وی نودا خطاء اجتهادی ده په داسے خطائیے سره یو اجرهم حاصلیږی اوداهم کیدے شی چه فیصله دَ داؤد علیه السلام صحیح وه لیکن الله تعالیٰ منسوخ کړه په فیصله دَ سلیمان علیه السلام سره اوپه نسخ کښ ډیرحکمتونه دی ﴿وَكُلًّا اٰتَيْنَا حُكْمًا وَّعِلْمًا﴾ دا جمله دلیل دے چه فیصله دَ داؤد علیه السلام هم صحیح ده اوکه اجتهادی شی نودا جمله دلالت کوی چه په خطاء اجتهادی سره دَمجتهد په صفت دَحکم اودَعلم کښ نقصان اوعیب نه راځی﴿وَسَخَّرْنَا﴾ دلیل دے چه په دغه معامله کښ دَ داؤد علیه السلام په نبوت کښ هیڅ نقصان نه دے راغلے اوتسبیح دَ غرونو اومارغانو معجزه وه دَ داؤد علیه السلام اوسَخَّرنَا او فَاعِلِينَ دلیل دے چه معجزه فعل دَ الله تعالیٰ دے دَ انبیاؤ علیهم السلام اختیارپکښ نیشته۔

[۸۰] په دے کښ بله معجزه ذکرکړے ده ځکه چه سورة سبا(۱۰) کښ چه اوسپنه دهٔ ته نرمه کړے شوے ده بغیرپه اورکښ دَګرمولونه، دَ هغے نه به ئے زغرے اووسلے جوړولے۔ اوپه دے ایت کښ دلیل دے چه صنعت وحرفت سنت دَ انبیاؤ دے اودارنګ دلیل دے چه دَ ځان دَ بچ کولودپاره دَ اسباب شرعیواستعمال هم سنت دے ﴿فَهَلْ اَنْتُمْ شٰكِرُوْنَ﴾استفهام په معنیٰ دَ امرسره دے اوپه دے مطالبه کښ مقصد همیش والے دَ شکردے۔

[۸۱] په دے ایتونو کښ دَسلیمان علیه السلام دَ معجزاتوذکردے اوهغه په دے کښ الله تعالیٰ ته محتاج ؤو۔ هرکله چه سلیمان علیه السلام ډیرے غزاګانے کولے اوسفرے ئے کولے اوملك ئے هم ډیر وسیع ؤو دَ هغے دَ انتظام دپاره ګرځیدل وونودَ هغے وجے نه الله تعالیٰ هغه لره هوا تابع کړه دَهغے صفت ئے په دے سورة کښ عَاصِفَةً (تیزه) اوپه سورة ص (۳۶) رخاء (نرمه) ذکرکړیدے اشاره ده چه هواګانے په دواړو حالتونو کښ دَ دهٔ دپاره مسخرے وے کله به تیزے وے اوکله به نرمے وے ﴿اَلْاَرْضِ الَّتِيْ بٰرَكْنَا فِيْهَا﴾ دَ دے نه مراد زمکه دَ شام ده ځکه چه په هغے کښ غلے میوے دَ زمکے نورفوائد ډیرپه کثرت سره دی اودارنګ ډیرپیغمبران په هغه زمکه رالیږلے شوی ؤ ﴿بِكُلِّ شَيْءٍ﴾ یعنی دَ هرځیزپه تدبیرباندے الله تعالیٰ بنه عالم دے۔

الشَّيٰطِيْنِ مَنْ يَّغُوْصُوْنَ لَهٗ وَيَعْمَلُوْنَ عَمَلًا دُوْنَ ذٰلِكَ ۚ وَكُنَّا لَهُمْ حٰفِظِيْنَ ﴿۸۲﴾ وَاَيُّوْبَ
اِذْ نَادٰى رَبَّهٗٓ اَنِّيْ مَسَّنِيَ الضُّرُّ وَاَنْتَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِيْنَ ﴿۸۳﴾ فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ فَكَشَفْنَا مَا بِهٖ مِنْ
ضُرٍّ ۖ وَّاٰتَيْنٰهُ اَهْلَهٗ وَمِثْلَهُمْ مَّعَهُمْ رَحْمَةً مِّنْ عِنْدِنَا وَذِكْرٰى لِلْعٰبِدِيْنَ ﴿۸۴﴾ وَاِسْمٰعِيْلَ

شیطانانو نه هغه څوك چه غوپے به ئے وهلے دَ هغه دپاره اوكارونه به ئے كول كارونه دَ دے نه سيوا او ؤو مونږ دوی لره حفاظت كؤونكی(۸۲) او ياد كړئ ايوب(عليه السلام) كله ئے چه فرياد كؤو رب خپل ته چه رسيدلے دے ماته مرض اوته زيات رحم كؤونكے ئے دَ رحم كؤونكو نه (۸۳) پس قبوله كړه مونږ دُعا دَ هغه پس لرے كړو مونږ هغه چه په دهٔ باندے څه مرض ؤو او ورکړو مونږ دهٔ ته بال بچ دَ دهٔ اوپشان دَ هغوی ورسره نور دَ وجے دَرحمت زمونږ دَ طرف نه او ياداشت دَ عبادت كؤونكو دپاره (۸٤) او ياد كړئے اسماعيل(عليه السلام)

[۸۲] دا دَبلے معجزے ذكردے يعنی دَ شياطين الجن اوسركشانونه كاراخستل معجزانه كار دے ﴿يَغُوْصُوْنَ﴾ دَ دے دَپاره چه دَ درياب نه ملغرے اوقيمتی كانړی راواوباسی ﴿عَمَلًا﴾ دَ دے تفسيرپه سورة سبا (۱۳) اوسورة ص (۳۷) كښ دے ﴿حٰفِظِيْنَ﴾ يعنی دَ شياطينو حفاظت دَ دے دپاره چه سليمان(عليه السلام) ته تكليف ورنكړی او دَ هغه دَحكم نه خلاف اونكړی دا ټول په حكم دَ اللّٰه تعالیٰ سره ؤو څه په سحر منتر سره نه ؤ۔

[۸۳] دا دليل نقلی دے دَ ايوب(عليه السلام) نه په دُعا اوعاجزئ كولوسره اللّٰه تعالیٰ ته دَپاره دَ تذكيردَ توحيد چه مشكل كُشا اودَ مرضونوشفاء وركوؤنكے صرف اللّٰه تعالیٰ دے۔ ايوب(عليه السلام) پيغمبر ؤو، دَ روميانونه ؤو او ډيرمالدار ؤو اواهل ئے هم ډيروؤنو اللّٰه تعالیٰ په هغه باندے ابتلاء اوكړه، مالونه ئے ورله فناكړه۔ اهل ئے ورله مړه كړل (بغيرَ نيتے دَ مرګ نه) اوپه بدن كښ مرض پيدا شواومشهور قول دا دے چه په دے مصيبت كښ ئے اتلس كالونه تير شول اخره مجبوره شودُعا غوختلوته، (اونور حالات دَ دے متعلق به انشاء اللّٰه تعالیٰ په تفسيردَسورة ص كښ راشی) ﴿اَنِّيْ مَسَّنِيَ الضُّرُّ﴾ په دے كښ مفسرقرطبی اوؤلس اقوال ذكر كړی دی ظاهر داد ه چه مراد دَ الضرنه مرض دَ بدن دے چه هغه ډيرشدت ته رسيدلے وؤاودا اظهاردَ عجزدے اللّٰه تعالیٰ ته داشكوه نه ده نودَصبرنه خلاف نه ده۔ اوپه باره دَايوب(عليه السلام) كښ چه بعضے مفسرينو اوكدے قصے ليكلی دی چه په هغے كښ دَ داسے مرضونوذكردے چه په هغے كښ نفرت پيداكوؤنكی ياپه ډيران باندے غورځول دی وغيره دااسرائيلی روايات دی دَشان دَ انبياء عليهم السلام سره مناسب نه دی ﴿وَاَنْتَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِيْنَ﴾ دا وسيله ده په صفت دَ اللّٰه تعالیٰ سره۔

[۸٤] دا دليل دے چه تيرشوی ايت كښ دعا ده ﴿رَحْمَةً﴾ كښ اشاره ده چه اجابت دَ دعا دَ دے وجے نه نه دے چه اللّٰه تعالیٰ مجبوردے بلكه دا احسان دَ اللّٰه تعالیٰ دے ﴿وَذِكْرٰى لِلْعٰبِدِيْنَ﴾ يعنی څوك چه دَ اللّٰه تعالیٰ بندگی كوی اوپه هغے كښ ورته مصيبتونه دَ مال او دَ بدن اورسيږی نوهغه دِ دَ ايوب(عليه السلام) دا واقعه ياده كړی ځكه چه هغه افضل ؤو اوسره دَ دے نه په هغه باندے مصيبتونه راغلی دی او هغه صبر كړے دے۔

وَاِدْرِيْسَ وَذَا الْكِفْلِ ؕ كُلٌّ مِّنَ الصّٰبِرِيْنَ ﴿۸۵﴾ وَاَدْخَلْنٰهُمْ فِيْ رَحْمَتِنَا ؕ اِنَّهُمْ مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۸۶﴾
وَذَا النُّوْنِ اِذْ ذَّهَبَ مُغَاضِبًا فَظَنَّ اَنْ لَّنْ نَّقْدِرَ عَلَيْهِ فَنَادٰى فِي الظُّلُمٰتِ اَنْ لَّآ اِلٰهَ
اِلَّآ اَنْتَ سُبْحٰنَكَ ۖ اِنِّيْ كُنْتُ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۸۷﴾ فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ ۙ وَنَجَّيْنٰهُ مِنَ الْغَمِّ ؕ وَكَذٰلِكَ

او ادریس(علیه السلام) او ذالکفل(علیه السلام) داټول ؤو دَ صبرناکونه (۸۵) او داخل کړی ؤو مونږ دوی په رحمت زمونږ کښ یقیناً دوی ؤو دَ پوره نیکانونه (۸۶) اویاد کړئ مهی والا(یونس علیه السلام) کله چه لاړ په داسے حال کښ چه غصه ؤو قوم خپل ته پس ګمان ئے اوکړو چه هیڅکله تنګسیابه رانولو مونږه په دهٔ باندے نو فریاد ئے اوکړو په تیرو کښ چه نیشته فریاد قبلوونکے سیوا ستانه پاك ئے ته یقیناً ځه یم دَ نقصان کؤونکونه دَ ځان سره (۸۷) پس قبول کړو مونږ فریاد دَ دهٔ او بچ کړه مونږ دَ غم نه او دا رنګ

[۸۶،۸۵] دا هم نقلی دلیلونه دَ دے درے پیغمبرانونه دی چه هغوی په رحمت کښ اللّٰه تعالیٰ ته محتاج دی اودَ صبراو عبدیت عملونه ئے کول اوصبردَ هغوی دلیل دے چه په هغوی باندے مصیبتونه راغلی ؤو۔ اسماعیل علیه السلام باندے مصیبت دَ ابتلاء دَ ذبحے اوپه شاړه اوچه زمکه کښ دَ مورسره یوائے اوسیدل اودَ بیت اللّٰه په ابادئ کښ تکلیف تیرول ؤو۔ اودَ اِدریس او ذوالکفل علیهماالسلام تفصیلی حال قرآن کریم اوصحیح حدیث مرفوع کښ نه دے ذکر شوے نومونږدَ هغے په باره کښ اجمالی ایمان لروابن کثیر وئیلی دی ظاهردَ عبارت دَ قرآن نه معلومیږی چه ذوالکفل نبی وو اوبعضو وئیلی دی چه صالح سړے وؤاوابن جریر پکښ توقف کړے دے۔

[۸۷] دا هم دلیل نقلی دے دَ یونس علیه السلام نه په عجزاواحتیاج دَ هغه اللّٰه تعالیٰ ته دَپاره دَتذکیردَ توحید۔ ﴿النُّوْنِ﴾ مهی ته وائي هغه دَ مهی په خیټه کښ ځه وخت پورے وؤاودَ مهی په ذریعه اللّٰه تعالیٰ دَهغه حفاظت کړے وؤځکه منسوب شوپه لقب کښ نُونِ ته ﴿مُغَاضِبًا﴾ نه مراد دا دے چه قوم ته غصه وؤځکه چه هغوی دَ هغه تکذیب کړے وؤاوخپل اجتهادئے اوکړلو چه په دے قوم باندے ضرور عذاب راځی اودَعذاب په وخت نبی دَ قوم نه باهراوځی نودَ دے وجے نه هغه دَ قوم نه بهرلاړودَ اللّٰه تعالیٰ امرته انتظارئے او نکړلو ﴿الظُّلُمٰتِ﴾ درے تیرے وے یودَ شپے بل دَ بحربل دَمهی دَخیټے اوپه دے دُعا دَیونس علیه السلام کښ دَ دعا درے شرطونوته اشاره ده اول شرط شروع کول په کلمه دَ توحید سره اشاره ده چه دبل هیڅ چا نه دعا نه غوښتلے کیږی ځکه چه بل چا کښ صفات دَ اُلوهیت اودَ حاجت پوره کولونیشته۔ دویم شرط تسبیح ذکرکول اشاره ده چه دَ اللّٰه تعالیٰ نه ځکه غوښتلے کیږی چه په هغه کښ نقصان دَعجزاوعیب نیشته، یعنی هرحاجت پوره کولو باندے قادر دے اودَ حاجت غوښتونکی په حال باندے پوره عالم دے، دریم شرط اقراراواظهاردَ خپل عجزاوقصور دے ځکه چه ځوك خپل عجز اللّٰه تعالیٰ ته نه ظاهره وی نودَ هغه دُعا نه قبلیږی۔

فائده: بعض جاهلانومبتدعینودَ دے آیت نه استدلال کړے دے دَ انبیاء علیهم السلام په ګنهګارکیدلوپه یوځوطریقوسره اوله طریقه دا چه مغاضباً نه معنیٰ دا ده چه اللّٰه تعالیٰ ته غصه وؤاودَ اللّٰه تعالیٰ په کاربانده غصه کول ګناه ده۔ دویمه طریقه، دهٔ ګمان اوکړو چه اللّٰه تعالیٰ په دهٔ باندے قدرت نه لری اوانکار دَ قدرت دَ اللّٰه تعالیٰ نه ګناه ده۔ دریمه داچه ځان ته ئے ظالم وئیلے دے اوهر ظلم ګناه ده۔ دَ دے جوابونه په

نُّنْجِ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۸۸﴾ وَزَكَرِيَّآ اِذْ نَادٰى رَبَّهٗ رَبِّ لَا تَذَرْنِيْ فَرْدًا وَّاَنْتَ خَيْرُ الْوٰرِثِيْنَ ﴿۸۹﴾
فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ ز وَوَهَبْنَا لَهٗ يَحْيٰى وَاَصْلَحْنَا لَهٗ زَوْجَهٗ ط اِنَّهُمْ كَانُوْا يُسٰرِعُوْنَ فِي الْخَيْرٰتِ وَ

نجات ورکړو مونږ مؤمنانوته (۸۸) او یاد کړئے زکریا(علیه السلام) لره کله چه فریاد ئے اوکړو رب خپل ته اے ربه زما مه پریږده مالره یواځے اوته ئے غوره دَ باقی پاتے کیدونکونه (۸۹) نو قبوله کړه مونږ دُعا دَ هغه او اوبخښنه مونږ دهٔ ته یحییٰ اوقابله کړه مونږ دهٔ لره بی بی دَ دهٔ یقیناً دوی به ژوچه کوشش به ئے کړو په ټولو نیکو کارونو کښ او

ترتیب سره دا دی چه مغاضباً نه مراد دا دے چه قوم ته غصه وواو کومومفسرینو چه لِرَبِّهٖ وئیلے دے دَ هغے مراد دا دے چه دَ رب دَ وجے نه قوم ته غصه وواودا عبادت دے او نَقدِرُ په معنیٰ دَتنګسیا راوستل دی لکه چه یَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَقْدِرُ۔ کښ دا معنیٰ ده۔ اوهر ظلم ګناه نه ده کله ظلم اقرار دَ قصور اودَ کوتاهئی ته وئیلے کیږی لکه په دے دُعا کښ چه ابوبکرﷺ ته رسول اللّٰهﷺ خودلے ده چه رَبِّ اِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِيْ ظُلْمًا كَثِيْرًا۔ اودارنګ کله خلاف اولیٰ عمل کولوته وئیلے کیږی یعنی اولیٰ اوبهترهٔ خبره داوه چه یونس(علیه السلام) دَ اللّٰه تعالیٰ دَ اذن انتظار کړے وے دَ پاره دَ هجرت دَقوم خپل نه اوخلاف دَ اولیٰ چه اوشی لوهغه ګناه نه وی۔

[۸۸] ﴿الْغَمِّ﴾ لفظ عام دے دَ تیرودَ وجے نه خفګان اودَخلاف اولے عمل کولو خفګان دواړوته شامل دے اودَ دهٔ دَنجات تفصیل په سورهٔ صافات کښ ذکرشویدے دَ(۱٤۰)نه(۱٤۷)پورے ﴿وَكَذٰلِكَ﴾ کښ اشاره ده چه دا دُعا دَنورومؤمنانونه هله قبلیدلی شی چه دَیونس(علیه السلام) په شان اخلاص اوعجزپه ځان کښ پیداکړی اودَ هغه دَ شرطونولحاظ اوکړی اوحدیث دَ ترمذی اواحمد کښ دے دُعاته ترغیب ذکردے ابن کثیر هم روایت نقل کړے دے۔

[۸۹] دا هم دلیل نقلی دے دَ زکریا(علیه السلام) نه دپاره دَ تذکیردَتوحید چه زکریا(علیه السلام) عجز اواحتیاج خاص اللّٰه تعالیٰ ته پیش کوؤ دَ ﴿فَرْدًا﴾ نه مراد یواځے دَ دین خدمتګاردے چه ملګری نه لری اومراد دَ﴿الْوٰرِثِيْنَ﴾ نه ساتنه کوؤنکی دَ دین دی ﴿اِذْنَادٰى رَبَّهٗ﴾ دَ هغے ذکرپه سورهٔ آلعمران (۳۸) اوسورهٔ مریم (۳) کښ تیر شویدے۔

فائده: په دے سورهٔ کښ دَ ځلورو انبیاؤ نه ئے نداء الی اللّٰه ذکرکړیده اشاره ده چه دَ انسانانوحاجات په دے ځلورو کښ منحصردی۔ اول دَ دُشمن په مقابله کښ اودَ دُشمن نه دَ بچ کیدلوحاجت دا نداء دَ نوح(علیه السلام) ده۔ دویم دَ بدنی اوجسمانی مرضونوپه باره کښ اللّٰه تعالیٰ ته فریاد کول اودا نِداء دَایوب(علیه السلام) وه۔ دریم دَعام تکالیفواومصیبتونودَ نجات دَپاره دا نداء دَ یونس(علیه السلام) ده ځلورم دَ اولادپه باره کښ چه میراث دینی اودنیوی سنبال کړی اودا نِداء دَ زکریا(علیه السلام)ده۔ نومعلومه شوه چه انسانان خواص اوعوام ټول اللّٰه تعالیٰ ته په هرحالت اوحاجت کښ محتاج دی اوپه دوی باندے فرض دی چه صرف دَیواللّٰه تعالیٰ نه خپل حاجتونو کښ مدد غواړی۔

يَدْعُوْنَنَا رَغَبًا وَّ رَهَبًا ؕ وَكَانُوْا لَنَا خٰشِعِيْنَ ﴿۹۰﴾ وَالَّتِيْٓ اَحْصَنَتْ فَرْجَهَا فَنَفَخْنَا فِيْهَا مِنْ رُّوْحِنَا
وَجَعَلْنٰهَا وَ ابْنَهَآ اٰيَةً لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿۹۱﴾ اِنَّ هٰذِهٖٓ اُمَّتُكُمْ اُمَّةً وَّاحِدَةً ۖ وَّاَنَا رَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْنِ ﴿۹۲﴾

حاجتونه ئے غوښتل زمانه مینه کۆونکی اوویره کۆونکی ؤو او ؤو دوی مونږ ته عاجزی کۆونکی(۹۰) اوهغه زنانه چه بچ ئیے ساتلے ؤو عورت خپل نو پوکے اوکړو مونږ په هغے کښ دَ روح دَ طرف زمونږ نه او اوکړځوله مونږ دے لره او ځوئے دَ دے لره نخښه د پاره دَ خلقو (۹۱) یقیناً دا (دین دَ انبیاؤ) دین ستاسو دے په داسے حال چه یو دین دے او ځه ستاسو رب یم نو بندگی مالره خاص کوئے (۹۲)

[۹۰] طریقه دَ استجابت دَ دُعا اودَیحییٰ علیه السلام پیدائش په سورة آلعمران اوسورة مریم کښ ذکر شویدے۔ ﴿اَصْلَحْنَا لَهٗ﴾مراد دا دے چه دَ دے نه مخکښ شنډه وه نواللّٰه تعالیٰ تانده کړله﴿اِنَّهُمْ كَانُوْا﴾دَ تفصیلی بیان نه روستودا اجمالی بیان دے چه ټول انبیاء علیهم السلام اللّٰه تعالیٰ ته محتاج دی او دَ هغوی درے قسمه عبادت ئے ذکرکړے دے اول ﴿يُسَارِعُوْنَ فِي الْخَيْرٰتِ﴾ مراد دَ دے نه امتثال دَ ټولواو امرو دے اواجتناب دَ ټولومنهیاتونه اومراد دَ مسارعت نه تقدیم الاهم فالاهم دے اودَ دے جملے نه امام رازی دلیل ذکرکړے دے په عصمت دَانبیاءعلیهم السلام باندے دویم ﴿يَدْعُوْنَنَا رَغَبًا وَّرَهَبًا﴾ یعنی دَطاعت اوعبادت سره اللّٰه تعالیٰ ته حاجات پیش کول او خاص دَ هغه نه امداد غوښتل ۔ رَغَبًا وَّ رَهَبًا، مراد دا دے چه په حال دَ دُعا کښ رغبت اوامیدلری دَ رحمتونودَ اللّٰه تعالیٰ اوهم ویره لری دَ غضب دَ اللّٰه تعالیٰ نه یا داچه په حال دَ خیرکښ دَ اللّٰه تعالیٰ نه دُعا غواړی اوپه حال دَ ویره کښ هم دَ اللّٰه تعالیٰ نه غواړی اوپه دے کښ اشاره ده چه رغبت اورهبت یوازے کول صحیح عبادت دے دویم ﴿وَكَانُوْا لَنَا خٰشِعِيْنَ﴾ یعنی هرحالت کښ اخلاص اوعاجزی اللّٰه تعالیٰ ته کوی ځکه چه هیڅ عبادت او دُعا بغیرَ اخلاص اودَ عجزنه نه قبلیږی۔

[۹۱] داهم دلیل نقلی دَمریم اوعیسیٰ علیهما السلام نه دے چه هغوی دَ اللّٰه تعالیٰ ارادے اوحکم ته عاجزوؤ۔ دا هم تذکیرَ توحید دے اودا واقعه ئے دَ مخکنوقصونه جدا ذکرکړه ځکه چه مریم نبیّه نه ده اوهرکله چه دَعیسیٰ ذکرپکښ دے نودَهغه واقعاتوسره نزدے ذکرکړله۔په﴿اَحْصَنَتْ فَرْجَهَا﴾کښ رد دے په یهودیانوباندے چه هغوی بهتان لګولے ووپه مریم علیهاالسلام باندے۔ اومراد دَ فرج نه عورت دے یا فروج دَ قمیص مراد دی چه هغه ځلور دی دوه لستونړی اوګریبان اولاندے دَ لمن نه، او مقصد دَ دے نه اظهارَ عِفّت اوپاکدامنئ دَ هغے دے﴿اٰيَةً﴾ئے مفرد ذکرکړومرادترینه جنس دے نوډیرو ایاتوته اشاره شوه یا داچه په دواړو کښ یوآیت عظیمه وؤیعنی ولادت بغیرَ نزدیکت دَ نارینه نه یاداچه عبارت کښ تقدیرَدے یعنی جَعَلْنٰهَا اٰيَةً وَابْنَهَآ اٰيَةً لِلْعٰلَمِيْنَ اوتفسیرقرطبی کښ ئے داسے تشریح کړے ده﴿لِلْعٰلَمِيْنَ﴾کښ اشاره ده چه دا واقعه په ټول عالم کښ صرف یوه وه۔

[۹۲] دا خطاب دے ټولوخلقوته روستودَ انبیاؤ علیهم السلام نه دَپاره دَ ترغیب توحید ته یعنی دین دَ توحید دین دَ ټولو انبیاؤعلیهم السلام دے اوستاسو هم دغه دین دے ﴿وَاَنَا رَبُّكُمْ﴾ بیان دَ اُمَّةً (دین) دے په رد دَ شرك دَ ربوبیة اوالوهیت سره امت دلته په معنیٰ دَ شریعت، سنت اودین سره دے۔

وَ تَقَطَّعُوْۤا اَمْرَهُمْ بَيْنَهُمْ ؕ كُلٌّ اِلَيْنَا رٰجِعُوْنَ ﴿۹۳﴾ فَمَنْ يَّعْمَلْ مِنَ الصّٰلِحٰتِ وَ هُوَ مُؤْمِنٌ فَلَا كُفْرَانَ
لِسَعْيِهٖ ۚ وَ اِنَّا لَهٗ كٰتِبُوْنَ ﴿۹۴﴾ وَ حَرٰمٌ عَلٰى قَرْيَةٍ اَهْلَكْنٰهَاۤ اَنَّهُمْ لَا يَرْجِعُوْنَ ﴿۹۵﴾ حَتّٰۤى اِذَا فُتِحَتْ

او ټکړے کړو دوی دین خپل لره په کورنئی کښ دا ټول به مونږ طرف ته راګرځی (۹۳) پس چاچه عمل او کړو دَ نیك عملونونه اوحال داچه دے مؤمن ؤو پس ناشکری نه کیږی دَ عمل دَ دهٔ او یقیناً مونږ لیکونکی دَ هغے یو (۹٤) او مقرر ده په هر یو کلی چه هلاك کړے دے مونږ چه دوی به دُنیا ته واپس نه شی راتلے (۹۵) تردے پورے چه کله پرانستے شی

[۹۳] دا زجردے هغه خلقوته چه دین دَتوحیدنه ئے مخالفت کړے دے اوامَرپه معنیٰ دَ دین دے یعنی پس دَپریخودلودَ توحید نه په کورنئ کښ مختلفے ډلے شوے او دَ شرك او کفرپه مختلفو قسمونو کښ تقسیم شول۔

[۹٤] دَ دے آیت نه دَ سورة اختتام پورے پنځم باب دے په دے کښ بشارت دے په (۹٤) کښ اوتخویف اخروی تفصیلی دے دَ (۹۵)نه تر(۱۰۰) پورے بیا هم بشارت تفصیلیه دے په درے ایاتونو کښ بیا تخویف اخروی اوبشارت دے بیاذکردَ صدق رسول دے په (۱۰۷) کښ بیا تخویف دنیوی دے په (۱۰۹،۱۱۱) کښ سره دَ رد دَ شرك فی العلم نه په درے ایاتونو کښ بیا اختتام دَ سورة دے په رد دَ شرك فی الاستعانة اوذکردَ تضرع دَ نبی ﷺ دے په مقابله دَ مشرکانو کښ۔ په دے (۹٤) ایت کښ بشارت دے مؤمنانوته چه دَ دوی عمل بربادنه دے بلکه سبب دَ اجر وجزا دے اودَ اللّٰه تعالیٰ سره محفوظ دے اودا تفصیل دَنقطعوادے یعنی ټول خلق دوه ډلے دی ﴿فَلَا كُفْرَانَ لِسَعْيِهٖ﴾ کفران په معنیٰ دَناشکرئ کول اوضائع کولو دے معلومه شوه چه دَ شرك او کفراوترك دَ عمل صالح سره (چه بدعت دے) اعمال ضائع کیږی نور آیاتونه هم په دے دلیل دی۔

[۹۵] په دے کښ زجراوتخویف دے دویمے ډلے ته۔په آیت کښ اشکال دے په دے وجه چه دَحرامٌ معنیٰ منع ده اولایَرجِعُونَ معنیٰ دا ده چه دنیاته واپس نه راځی، یا دا چه دَ ګناه نه راګرځی په توبے سره، نو معنیٰ داشوه چه هلاك کړے شوی خلقوباندے دنیا ته نه واپس کیدل اوتوبه نه ویستل منع دی نولازم داشوه چه دوی به دنیا ته واپس راځی اوتوبه به اوباسی اودا معنیٰ دَنور ایاتونونه خلاف ده لکه سورة مؤمنون (۱۰۰) او سورة انعام (۲۸) او سورة یٰسٓ (۳۱) کښ ۔ جواب په یوځووجوهو سره دے۔ اوله وجه داده چه حَرَامٌ په معنیٰ دَ وجب اوقد قدردے اودا دَ ابن عباس﷜ نه نقل دے۔اودویمه وجه داده چه لاَ زیات دے اودا قول دَ ابوعبید دے خومناسب نه دے۔ دریمه وجه دا ده چه توبه کول اوایمان راوړل حرام دی په هلاك کړے شوی قومونوباندے ځکه چه دوی دنیاته واپس نشی راتللے اوپه دے ټولووجوهوسره دامعلومه شوه چه کوم خلق چه مړه شویدی نوهغوی دنیاته واپس نشی راتللے اودنیا ته دَ مړوراتلل دا دَ روافضوعقیده ده اوکومے قصے چه مشهوردی چه فلان سړے فلان ولی بزرګ لره روستودَ مرګ دَ هغه نه دنیاکښ ژوندے لیدلے دے داټولے غلطے قصے دی اوتلبیسات دَشیاطینودی او دَمعراج په شپه کښ چه لیدلے شوے وؤنوهغه عالَمِ مثال وؤاومعجزه وه دَ هغے تفصیل په تشریح دَ معراج کښ تیرشوے دے۔

يَاْجُوْجُ وَمَاْجُوْجُ وَهُمْ مِّنْ كُلِّ حَدَبٍ يَّنْسِلُوْنَ ﴿۹۶﴾ وَاقْتَرَبَ الْوَعْدُ الْحَقُّ فَاِذَا هِيَ شَاخِصَةٌ اَبْصَارُ
الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ؕ يٰوَيْلَنَا قَدْ كُنَّا فِيْ غَفْلَةٍ مِّنْ هٰذَا بَلْ كُنَّا ظٰلِمِيْنَ ﴿۹۷﴾ اِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُوْنَ
مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ ؕ اَنْتُمْ لَهَا وٰرِدُوْنَ ﴿۹۸﴾ لَوْ كَانَ هٰٓؤُلَآءِ اٰلِهَةً مَّا وَرَدُوْهَا ؕ

یاجوج او ماجوج او دوی به دَ هرے ډیرځے نه منډے وهی (۹۶) او ښه نزدے به شی وعده حقه پس دغه وخت به وازے (حیرانے) وی سترګے دَ هغه چاچه کفرځے کړے دے هائے تباهی ده زمونږ یقیناً ؤو مونږ په غفلت کښ دَ دے نه بلکه مونږ ظالمان ؤو(۹۷) یقیناً تاسو او هغه څوك چه تاسوئے بندګی کوئ سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه خشاك دَ جهنم دے تاسو به هغے ته ورننوځئ (۹۸) که چرے وے دوی دَبندګئے حقدار نه به ورننوتلے جهنم ته

[۹۶] په دے ایت کښ بعضِ علامات قریبه دَ قیامت ذکرکړی دی چه صحیح احادیثو سره ثابت شوے ده چه روستودَ فتنے دَ دجال نه به یاجوج ماجوج په ټول عالم مسلّط کړے شی۔ اوحتی ابتدائیه دے یعنی مستقل کلام شروع شوے دے یا متعلق دے په لایرجعون پورے یعنی دوی نشی واپس کیدے ترهغے پورے چه دَقیامت داعلامه موجود شی اوبیا قیامت قائم شی﴿حَدَبٍ يَّنْسِلُوْنَ﴾کښ اشاره ده چه دَ دوی دَ راتللواومسلط کیدلونه هیڅ څیزبه منع کوؤنکے نه وی یعنی دَ دوی سره به ډیراسباب دَ سفروی هوائی او زمینی اودَیاجوج ماجوج ذکرپه سورة کهف (۹۴)کښ تیرشویدے اوابن جریر ابن کثیردَ دوی په باره کښ ډیراحادیث ذکرکړیدی۔

[۹۷] دا دلیل دے چه په راتللودَیاجوج ماجوج پسے به قیامت ډیرنزدے راځی ځکه چه واقترب معطوف دے په فتحت باندے اوپه دے ایت کښ هیبت دَ قیامت ئے ذکرکړے دے اوداسے په سورة ابراهیم (۴۲،۴۳)کښ تیرشوی دی﴿يٰوَيْلَنَا﴾دا اقرار دے په جرم دَ شرك اودَ کفر سره لیکن دغه وخت دا اقرار هیڅ فائده نه ورکوی اودا ایت مناسبت لری دَ سورة دَ اول ایت سره۔

[۹۸] دا هم تخویف دے او رد دے په مشرکانو باندے یعنی دا مشرکان چه دَخپلومعبودانونه نجات ورکولوامیدونه لری نو داخیال ئے غلط دے ځکه چه هغه معبودان به هم اورته داخلیږی نودوی له به څنګه نجات ورکړی په دے ایت کښ اشکال دے چه دَ لفظ ما نه معلومیږی چه ټول معبودان دَمشرکانوبه جهنم ته داخلیږی نوبعضے دَمعبودانونه انبیاء اولیاء اوملائك هم دی چه بعضے خلقودَ هغوی عبادتونه کړی دی اودا اعتراض مفسرینودَ ابن الزبعری نه هم نقل کړے دے۔ جواب دَ دے په څو وجهوسره دے اوله وجه داده چه لفظ دَما قطعی صریحی نه دے په عموم کښ بلکه احتمال دَعموم اوخصوص دَ دواړو لری داسے شرح مواقف نورالانوار وغیره کښ ذکرشویدی۔ اوابن الزبعری مشرك ؤو هغه تلبیس اودهوکه کوله چه لفظ دَمانه ئے عموم مرادکوؤنودلته مراد دَما نه خاص هغه معبودان مراد دی، چه هغوی خلقوته دَشرك اوبدعت دعوت ورکوی یعنی باطل پرست پیران اوملیان۔ دویمه وجه دا ده چه لفظ دَما اګرچه عام شی لیکن (۱۰۱) سره دَصالحینواستثناء کړے شوے ده ﴿حَصَبُ﴾ هغه خشاك وغیره ته وئیلے کیږی چه اورته اوغورځولے شی دپاره دَ سیزلو دَ هغے او﴿حَطَبُ﴾ صرف خشاك ته وئیلے کیږی نوحصب کښ معنیٰ دَ ذلت ده۔

وَكُلٌّ فِيهَا خٰلِدُونَ ﴿٩٩﴾ لَهُمْ فِيهَا زَفِيرٌ وَّهُمْ فِيهَا لَا يَسْمَعُونَ ﴿١٠٠﴾ إِنَّ الَّذِينَ سَبَقَتْ لَهُمْ مِّنَّا الْحُسْنٰىٓ
أُولٰٓئِكَ عَنْهَا مُبْعَدُونَ ﴿١٠١﴾ لَا يَسْمَعُونَ حَسِيسَهَا ۚ وَهُمْ فِي مَا اشْتَهَتْ أَنْفُسُهُمْ خٰلِدُونَ ﴿١٠٢﴾ لَا
يَحْزُنُهُمُ الْفَزَعُ الْأَكْبَرُ وَتَتَلَقّٰىهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ ۖ هٰذَا يَوْمُكُمُ الَّذِي كُنْتُمْ تُوعَدُونَ ﴿١٠٣﴾ يَوْمَ نَطْوِي

او دوی به ټول په هغے کښ همیشه وی (۹۹) دوی د پاره په هغے کښ هنرار به وی او دوی به په هغے کښ هیڅ نه اوری (۱۰۰) یقیناً هغه کسان چه مخکښ مقرر شویدے دوی دپاره زمونږ دَ طرف نه جنت دوی به دَ جهنم نه لرے کړے شوی وی (۱۰۱) نه به اوری دوی کشار دَ جهنم او دوی به په هغه څه کښ چه غواړی ئے دَ دوی نفسونه همیشه وی (۱۰۲) نه به غمژن کوی دوی لره هیبت لوئی اومخے له به راځی دَ دوی ملائك (وائی به) دا ورځ ستاسو ده هغه چه تاسو سره ئے وعده کیدے شوه (۱۰۳) هغه ورځ چه راؤښغارو مونږ

[۹۹]دا دلیل دے په ابطال دَ آلهه من دون اللّٰه تعالیٰ ځکه چه ځان اوخپل عابدان دَجهنم نه نشی بچ کولے نوځرنګ آلهه کیدلے شی۔ دارنګ که دَ دوی بندګی کول حق وی نودَ دوی عابدان به جهنم ته نه داخلیدلے ﴿مَاوَرَدُوهَا﴾ ضمیرعابدان اومعبودانودواړوته راجع کیدے شی﴿وَكُلٌّ﴾ کښ هم دواړه مراد دی۔

[۱۰۰] ﴿زَفِيرٌ﴾ ساه اخستل دَغمژن شخص دی چه راوځی دَهغه دَ زړه نه مراد ترینه آسویلی کول دی داسے په سورة هود(۱۰۶)کښ ذکردی هرکله چه په دے ایاتونوکښ یوقسم مشرکان ذکردی نوصرف زفیرئے ذکرکړو اوسورة هود کښ په شقوا سره تعمیم کړے دے نوپه عذاب کښ تعمیم کړے دے په زفیراوشهیق دواړو سره و اللّٰه اعلم ﴿لَايَسْمَعُونَ﴾یعنی شوردَجهنم والوبه داسے ډیروی چه دَچا خبره به نه اوریدلے کیږی اودا ایت دلیل دے چه دا آلهه بتان نه دی بلکه اهل عقل دی ځکه چه دا صفات دَ بتانونشی کیدلے۔

[۱۰۱] روستودَتخویف اخروی نه بشارت دے دا جواب دَ هغه وهم دے که څوك وهم اوکړی چه آلهه لفظ چه مخکښ ایت کښ تیرشوشامل دے هغه صالحینوته چه دَ هغوی عبادت کړے شوے دے نودے آیت کښ دَ هغوی استثناء اوشوه۔ او مراد دَ﴿سَبَقَتْ﴾نه وعده دَجنت ده محسنینودپاره لکه سورة یونس(۲۶)کښ۔ یا مراد دَ دے نه تقدیرکښ دَ جنت لیکل دی صالحینو دپاره ﴿الْحُسْنٰى﴾مراد دَ دے نه جنت یاسعادت دے اوپه دوی کښ ملائك، عزیر، عیسیٰ اونورصالحین داخل دی۔

[۱۰۲] که سوال اوکړے شی چه دَ دے تعارض دے دَ سورة مریم (۷۱) سره؟ اول جواب دا دے چه په هغه ایت کښ وارد په معنیٰ دَ داخلیدونکی نه دے بنا په یوتفسیر سره۔ دویم جواب دا دے چه په دے ایت کښ مطلب دا دے چه روستودَ دخول دَ جنت نه به هیڅ کش نه آوری نوتعارض نه راځی ﴿مَااشْتَهَتْ﴾ یعنی هرمطلوب اومحبوب به ورته حاصل وی اودَ هرضرر اومرهوب نه به بچ وی۔

[۱۰۳] دا سے سورة نمل (۸۹)کښ دی اومراد دَ فزع اکبرنه هیبت دَ ورځ دَ قیامت دے په هغے کښ ذبح الموت (ذبح دَ مرګ) هم داخل دی لکه چه حدیث صحیح کښ ذکردی اوملاقات دَملائکودَ دوی سره په هغه وخت کښ چه دَ قبرونونه به راؤځی اودارنګ په دروازودَ جنت باندے۔

السَّمَآءَ كَطَيِّ السِّجِلِّ لِلْكُتُبِ ؕ كَمَا بَدَاْنَاۤ اَوَّلَ خَلْقٍ نُّعِيْدُهٗ ؕ وَعْدًا عَلَيْنَا ؕ اِنَّا كُنَّا فٰعِلِيْنَ ﴿۱۰۴﴾
وَلَقَدْ كَتَبْنَا فِي الزَّبُوْرِ مِنْۢ بَعْدِ الذِّكْرِ اَنَّ الْاَرْضَ يَرِثُهَا عِبَادِيَ الصّٰلِحُوْنَ ﴿۱۰۵﴾ اِنَّ فِيْ
هٰذَا لَبَلٰغًا لِّقَوْمٍ عٰبِدِيْنَ ﴿۱۰۶﴾ وَمَاۤ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا رَحْمَةً لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۰۷﴾ قُلْ اِنَّمَا يُوْحٰۤى اِلَيَّ اَنَّمَاۤ

اسمانونه پشان دَ رانغختلو دَ رجستر والا کتابونو لره لکه چه شروع کړے دے مونږ اول پیدائش دوباره به هم دغسے کؤو وعده ده په مونږ باندے یقیناً مونږ داکار کؤو (۱۰٤) او یقیناً لیکلی دی مونږ په زبور کښ روستو دَ ذکر (تورات) نه چه بیشکه زمکے وارثان به وی دَهغے بندګان زما نیکان (۱۰۵) یقیناً په دے (مضمون) کښ خامخا تبلیغ دے دپاره دَ هغه قوم چه بندګی کوی (په اخلاص سره) (۱۰٦) اونه ئے لیږلے مونږ ته مګر رحمت د پاره دَ ټولو خلقو (۱۰۷) اُوایه یقیناً وحی کیدے شی ماته چه

[۱۰٤] دامتعلق دے ﴿لَا يَحْزُنُهُمُ﴾ پورے یعنی نه به غمژن کوی دوی لره لوئے هیبت په هغه ورځ چه را اونغاړوبه آسمانونه یا متعلق دے په تُوعَدُونَ پورے۔ یا دَسره کلام دے اونُعِيدُهُ سره تعلق لری اومراد دَ اَلسَّمَآءَ نه ټول آسمانونه دی په دلیل دَسورة زمر(٦٧)سره ﴿لِلسِّجِلِّ﴾ کښ غوره قول دا دے چه هغه رجسترچه په هغے کښ نومونه یاحکمونه اوفیصلے سجل (درج) کیږی نوهغه رجسترپه خپلومضامینوباندے مشتمل وی اوهغه مضامین په هغے کښ را نغختلے شوی وی اوچاچه وئیلی دی چه سجل نوم دَکاتب دَ نبی ﷺ وونوابن جریراوابن کثیرپه هغے روایت ردکړے دے چه دامنکربلکه موضوعی دے۔

[۱۰۵] په دے ایت کښ بشارت اخروی دے بناپه دے چه مراد دَ الاَرضَ نه زمکه دَ جنت ده لکه سورة زمرکښ (۷٤) یا بشارت دنیوی دے بنا په دے چه مراد دَ دے نه زمکه دَشام یا حکومت دَ بعضے زمکے ترینه مراد دے لکه چه داسے وعده بنی اسرائیلودپاره هم ذکرشوے وه په سورة اعراف (۱۳۷) کښ اودَ دے امت دپاره په سورة نور(۵۵)کښ۔ زبورپه معنیٰ مشهورسره دے یعنی کتاب دَ داؤد علیه السلام اودَ ذکرنه مرادیاذکرالٰهی اوبیان دَتوحید دے په زبورکتاب کښ یا ذکرپه معنیٰ دَ تورات سره دے یا دَلوح محفوظ دے یا زبورپه معنیٰ لغوی سره دے یعنی لیکلے شوی کتابونه نو مراد ترینه ټول کتابونه الٰهیه دی (تورات، انجیل، زبور) اویا ذکرپه معنیٰ دَ لوح محفوظ سره دے اوچه مراد دَ الارض نه زمکه دَ شام شی اوهغه په دے سورة کښ په (۷۱،۸۱)کښ ذکرشویده اوعباد صالحین نه مراد دا امت دے نو دا وعده دَعمربن خطاب ﷺ په زمانه کښ پوره شوه زمکه دَشام فتح کړے شوه اووالی دَ هغے معاویه ﷺ مقررکړے شونو معلومه شوه چه معاویه ﷺ دَ دے صالحینوپه ټولی کښ شمار وؤاوتبصیرالرحمٰن کښ علامه مهائمی لیکلی دی چه نه دی صالحان مګر صحابه کرام دی۔

[۱۰٦] تیرشوی ایت کښ چه کوم بشارت ذکرکړے شودَ هغے دَحاصلولو دپاره په دے ایت کښ ذریعه بیانوی ﴿هٰذَا﴾ اشاره ده مضمون دَ دے سورت ته یاټول قرآن ته اوبلاغ معنیٰ ده کفایت اودَمرادحاصلول دی او ﴿عٰبِدِيْنَ﴾نه مراد مؤحدین دی چه بندګی په شرعی طریقے سره اداکوی یا عاملان دَقرآن کریم دی لکه چه تفسیرمواهب الرحمٰن کښ ذکرکړی دی۔

[۱۰۷] هرکله چه صلاحیت اوعبادت موقوف دے په تابعدارئے دَ سنت دَ رسول اللّٰه ﷺ اوپه عقیده

اِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ فَهَلْ اَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴿۱۰۸﴾ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَقُلْ اٰذَنْتُكُمْ عَلٰى سَوَآءٍ ؕ وَاِنْ
اَدْرِيْۤ اَقَرِيْبٌ اَمْ بَعِيْدٌ مَّا تُوْعَدُوْنَ ﴿۱۰۹﴾ اِنَّهٗ يَعْلَمُ الْجَهْرَ مِنَ الْقَوْلِ وَيَعْلَمُ مَا تَكْتُمُوْنَ ﴿۱۱۰﴾
وَاِنْ اَدْرِيْ لَعَلَّهٗ فِتْنَةٌ لَّكُمْ وَمَتَاعٌ اِلٰى حِيْنٍ ﴿۱۱۱﴾ قٰلَ رَبِّ احْكُمْ بِالْحَقِّ ؕ وَرَبُّنَا الرَّحْمٰنُ
الْمُسْتَعَانُ عَلٰى مَا تَصِفُوْنَ ﴿۱۱۲﴾

حق دار دَ بندګئ ستاسو یوذات دے نو ایا تاسو غاړه کیخښودونکی ئیے (دے مسئلے ته) (۱۰۸) پس که دوی مخ اوګرځوو نو اُوایه ماتاسو خبر کړئ په پوره خبر دارئ او څه نه پوهیږم ایا نزدے دے یا لرے دے هغه (عذاب) چه تاسو سره ئے وعده کیدیشی (۱۰۹) یقیناً اللّٰه تعالیٰ پوهه دے په ښکاره وینا اوپوهه دے په هغه څه باندے چه تاسوئے پټوئے او څه نه پوهیږم کیدے شی چه (داروستو کیدل) امتحان وی تاسو لره او نفع وی تریووخت پورے (۱۱۱) اُوئیل دهٗ اے ربه زما فیصله اوکړه حقه فیصله او رب زمونږ رحمان دے مدد غوښتلے کیږی دَهغه نه په برداشت دَ هغه څه چه تاسوئے بیان کوئے (۱۱۲)

دَتوحید باندے نودے دواړو ایاتونوکښ ئے دا دواړه بنیادونه ذکرکړل۔ اودَعلامه ابن قیمؒ نه نقل دی چه رسالت دَ رسول اللّٰهﷺ رحمت دے دَ ټولو عالمینودپاره په داسے طریقه چه مؤمنانوکاملانوپه سبب دَتابعدارئے دَهغه دَ دنیا اودَ آخرت کرامتونه اوشرافتونه حاصل کړل اودشمنانومحاربینودَپاره رحمت دے دَ هغوی سره جهاد اوغزاکول دپاره دَ اسلام قبلولو اواهل ذمه کافرانودَپاره په جزیه ادا کولوسره په امن اوسیدل رحمت دے اومنافقانوته سره دَپټ کفرنه مؤمنانو پشان حقوق ورکول رحمت دے اودَ عام مخلوق دَپاره دَعام عذاب دنیوی نه بچ کیدل رحمت دے۔ او ایت دَ سورة توبه (٦١) کښ خاص رحمت مراد دے ځکه چه دَ مؤمنانو تخصیص ئے کړے دے۔

[۱۰۸] په دے ایت کښ مسئله دَ توحید ده چه هغه مقصد دَ رسالت دے اوسبب دَ حصول دَ رحمت خاصه دے ﴿فَهَلْ اَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ﴾ دا په معنیٰ دَ امردے اومراد دَ اسلام نه توحید منل دی۔

[۱۰۹] په دے کښ تخویف دَ عذاب دے که دنیوی وی اوکه اخروی وی په وخت دَ اعراض دَ توحیدنه ﴿اٰذَنْتُكُمْ عَلٰى سَوَآءٍ﴾ یعنی ماتاسوته برابراوپوره بیان دَتوحید کړے دے ماستاسونه هغه علم نه دے پټ کړے یا مراد دا دے چه ماتاسوته دا آخری بیان اوکړو اوس پس دَد ے نه انتظار دَ عذاب دے اوپه ایت کښ نفی دَ علم غیب ده دَ نبیﷺ نه۔

[۱۱۰] په دے کښ ذکردَ سبب دَ عذاب دے چه هغه شرك کول دی پټ اوښکاره او ایت کښ ثبوت دَ صفت دَ علم کلی دے دپاره دَ اللّٰه تعالیٰ اودا علت دے دَ دے قول دپاره چه ﴿وَاِنْ اَدْرِيْ﴾ یعنی علم دَ هرځیز اوعلم غیب خاص دے په اللّٰه تعالیٰ پورے دَ دے وجے نه ماته علم دَ غیب نیشته دے۔

[۱۱۱] جواب دَ سوال دے چه هرکله سبب دَ عذاب موجود دے نوپه دوی باندے ولے سمدستی عذاب نه راځی حاصل دَ جواب دادے چه پوره وجه دَ روستووالی ماته نه ده معلومه هاں امتحان کول او مهلت دَ دے وجه کیدیشی اوپه دے ایت کښ هم نفی دَعلم غیب ده دَ نبیﷺ نه۔

سُوْرَةُ الحَجِّ (۲۲) مَدَنِيَّةٌ (۱۰۳) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۷۸ رُكُوْعَاتُهَا ۱۰

يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوْا رَبَّكُمْ ۚ اِنَّ زَلْزَلَةَ السَّاعَةِ شَيْءٌ عَظِيْمٌ ۝۱ يَوْمَ تَرَوْنَهَا تَذْهَلُ كُلُّ مُرْضِعَةٍ عَمَّآ اَرْضَعَتْ وَتَضَعُ كُلُّ ذَاتِ حَمْلٍ حَمْلَهَا وَتَرَى النَّاسَ سُكٰرٰى وَمَا هُمْ بِسُكٰرٰى وَلٰكِنَّ

اے خلقو ویره کوئے دَ رب خپل نه یقیناً زلزله دَ قیامت یو څیز هیبتناك دے (۱) په هغه ورځ چه اوبه وینئے تاسو هغے لره چه غافله به شی هره پئے ورکؤونکے دَ هغه بچی نه چه پئی ورکوی هغه لره او اوبه غورځوی هر حمل والا حمل خپل او وینے به ته خلقو لره نشه اوحال داچه دوی نه دی نشه (په څکلو دَ نشه اور څیز سره) اولیکن

(بقیه تفسیر دَ سورة الانبیاء)

[۱۱۲] هرکله چه په وخت دَ مهلت اوتاخیردَ عذاب کښ ضدیانواوعنادیانوسخته مقابله دَحق شروع کړله نونبی ﷺ دا دُعا اوغوښتله اوپه ایت کښ رد دَ شرك في التصرف والاستعانة دے۔

سورة الحج

دَ دے سورة بعضِ ایاتونه مکیه دی اوبعض ایاتونه مدنیه دی۔ مفسرقرطبی دَغزنوی نه نقل کړی دی چه دا سورة دَعجیبه سورتونونه دے ځکه چه په دے کښ بعضِ ایاتونه دَشپے نازل شویدی اوبعضے دَ ورځے اوبعضے په سفرکښ نازل شویدی اوبعضے په حضرکښ اوبعضے ناسخ دی اوبعضے منسوخ اوبعضے دَصلح دی اوبعضے دَجنګ اوبعضے محکم دی اوبعضے متشابه دی۔

ربط: د دے سورة دَ سورة انبیاء سره یو دا دے چه تیرشوی سورة کښ عجزاواحتیاج دَ انبیاء علیهم السلام ئے اللّٰه تعالیٰ ته ذکرکړونوپه دے سورة کښ رد دے په هغه چا باندے چه احتیاج اوعجزغیراللّٰه ته پیش کوی۔دویم داچه دَهغه سورة په اول کښ دَ قیامت نزدیکت ئے ذکرکړونودَ دے سورة په اول کښ دَ زلزلة الساعة ذکرکوی۔ دریم داچه هغه سورة کښ دَ دین یو والے ذکرکړوچه اِن هٰذه امتکم امة وَاحِدة الایة نوپه دے سورة کښ تفرُّق اوډلے دَخلقوذکرکړیدی۔

دعویٰ دَ دے سورة: اثبات دَ توحید په لس دلیلونوسره اوپه رد دَ ټولو اقسامودَ شرك سره دے اواثبات دَبعث دے په عقلی دلیلونواوتخویف اوبشارت سره۔

خلاصه دَ دے سورة: دا سورة تقسیم دے څلوروبابونوته اول باب تر(۲۵) پورے دے په دے کښ دواړه دعوے اوتخویف اخروی ذکردے په(۲،۱)کښ بیا اوه زجرونه اودرے عقلی دلیلونه دی اوتخویف اخروی تفصیلاً اوبشارت اخرویه تفصیلا دے۔

تفسیر

[۱] په دے کښ دعویٰ دَتوحید اودعویٰ دَاثبات قیامت ده په ذکردَلوئے نمونے دَقیامت سره۔

فائده: دَ قرآن دَترتیب دَ ابتداء نه څلورم سورة (سورة النساء) شروع دے په یٰٓاَیُّهَاالنَّاسُ سره اودَقرآن

عَذَابَ اللّٰهِ شَدِيْدٌ ۞ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُّجَادِلُ فِي اللّٰهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَّيَتَّبِعُ كُلَّ شَيْطٰنٍ مَّرِيْدٍ ۞
كُتِبَ عَلَيْهِ اَنَّهٗ مَنْ تَوَلَّاهُ فَاَنَّهٗ يُضِلُّهٗ وَيَهْدِيْهِ اِلٰى عَذَابِ السَّعِيْرِ ۞ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اِنْ

عذاب دَ الله تعالیٰ سخت دے (۲) اوبعض دَ خلقو نه هغه څوك دی چه جګړه کوی په باره دَ توحید دَ الله تعالیٰ کښ بغیر دَ پوهے نه او روان وی په هر شیطان سرکش پسے (۳) مقرر شویده په باره دَ هغه چاکښ چه چا دَ هغه تابعداری اوکړه نو یقیناً هغه به ګمراه کوی دهٔ لره او بلنه کوی دَ دهٔ عذاب دَ ګرم اورته (٤) اے خلقو که

دَنصف نه هم څلورم سورة شروع دے په يٰٓاَيُّهَاالنَّاسُ، سره په هغه سورة (النسآء) کښ مبدء دَخلق ذکرکړیده اوپه دے سورة کښ منتهی (قیامت) ذکرکړیده ﴿زَلْزَلَةَ السَّاعَةِ﴾ کښ یوتفسیردا دے چه دَ قیامت دَ قائم کیدلونه ړوندے دَمخلوق دَ فناسره به دا زلزله په ټوله زمکه باندے راځی لکه چه سورة زلزال کښ هم دا مراد دے۔ دویم تفسیر دا دے چه مراد دَ دے نه لوئے هیبت دے میدان حشرکښ لکه چه حدیث صحیح کښ راغلی دی چه الله تعالیٰ به حکم اوکړی آدم علیه السلام ته (اوبل روایت کښ چه حکم به اوکړی ملائکوته اودوارهٔ جمع کیدے شی) چه دَخپل اولاد نه ډله دَجهنم را جدا کړه نوهغه به ټپوس اوکړی دَ څومره نه څومره نوالله تعالیٰ به اوفرمائی دَ زرونه یوکم زر جداکړه دَپاره دَجهنم اویوتن به څی جنت ته نودغه وخت به لوئے هیبت راځی په خلقو باندے امام بخاری دا حدیث په تفسیر دَ دے ایت کښ ذکرکړے دے او ابن جریرهم داتوجیه غوره کړیده۔

[۲] په دے ایت کښ ذکرد هیبت شان دَ زلزلے دے پس که دَ زلزلے نه مراد اول تفسیر وی نودا حالات چه په دے ایت کښ ذکرشویدی په حقیقت باندے حمل دی اوکه دَ زلزلے دویم تفسیر وی نودغه حالات په فرض اوتقدیرباندے حمل دی یعنی فرض کړه که په هغه ورځ مرضعه اوحامله موجودشی نوداحال به ئے وی۔

فائده: مرضع اومرضعه دواړه لفظونه زنانودپاره استعمالیږی لیکن فرق ئے دا دے چه په کوم وخت کښ بچی له په خوله کښ سینه ورکوی نودغه وخت کښ ورته مرضعه وئیلے کیږی اوپه عامو حالتونو کښ ورته مرضع وائی نومطلب دا دے چه بچی له پے ورکول دا ډیرد مینے حال دے لیکن دغه وخت به دَبچی نه غافله شی ځکه چه هیبت به ډیر زیات وی اودارنګ ذات حمل اوحامل دواړه صفات دَ زنانه دی لیکن فرق دا دے چه ذات حمل هغه زنانه ده چه حمل ئے ښکاره وی اونزدے وی پیدائش ته اوحامل ورته په عامو اوقاتودَ حمل کښ وئیلے کیږی۔

[۳] دا زجردے منکرینودَ توحید اوقیامت ته چه جداکوی په سبب دَ ړوند تقلیدکولوسره ځکه چه فرمائیلی دی ﴿وَيَتَّبِعُ كُلَّ شَيْطَانٍ مَّرِيْدٍ﴾ مراد دَشیطان نه انسی اوجنی دواړه دی اومفسرابن کثیر وئیلی دی داحال دَبدعتیانوګمراهانودے چه دَښکاره حق نه مخ ګرځوی اودَباطل تابعداری کوی پریږدی هغه چه الله تعالیٰ نازل کړیدی په رسول الله ﷺ باندے اوتابعداری کوی دَمشرانودَګمراهئی چه بلنه ورکوی بدعاتوته په خپلوخواهشاتواوآراؤ سره۔

[٤] نسبت دَګمراه کولوشیطان ته په سبب دَ وسوسودَهغه سره دے ﴿كُتِبَ﴾ داکتابت تقدیری مراد دے

كُنْتُمْ فِيْ رَيْبٍ مِّنَ الْبَعْثِ فَاِنَّا خَلَقْنٰكُمْ مِّنْ تُرَابٍ ثُمَّ مِنْ نُّطْفَةٍ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ ثُمَّ مِنْ
مُّضْغَةٍ مُّخَلَّقَةٍ وَّغَيْرِ مُخَلَّقَةٍ لِّنُبَيِّنَ لَكُمْ ؕ وَنُقِرُّ فِي الْاَرْحَامِ مَا نَشَآءُ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى
ثُمَّ نُخْرِجُكُمْ طِفْلًا ثُمَّ لِتَبْلُغُوْٓا اَشُدَّكُمْ ۚ وَمِنْكُمْ مَّنْ يُّتَوَفّٰى وَمِنْكُمْ مَّنْ يُّرَدُّ اِلٰٓى اَرْذَلِ
الْعُمُرِ لِكَيْلَا يَعْلَمَ مِنْۢ بَعْدِ عِلْمٍ شَيْـًٔا ؕ وَتَرَى الْاَرْضَ هَامِدَةً فَاِذَآ اَنْزَلْنَا عَلَيْهَا
الْمَآءَ اهْتَزَّتْ وَرَبَتْ وَاَنْۢبَتَتْ مِنْ كُلِّ زَوْجٍۭ بَهِيْجٍ ۝ ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْحَقُّ وَاَنَّهٗ يُحْيِ

تاسو ئے په شك كښ دَ دوباره ژوندنه (نوواورئے دليل) چه يقيناً پيدائش شروع كړے دے مونږ ستاسو دَ
خاورونه بيا دَ نطفے نه بيا دَ ټكړے دَوينے نه بيا دَ ټكړے دَ غوښے نه چه پوره اندا مونو والا وی (او بعض)
كموانداموني والاوی دے دپاره چه وضاحت اوكړو مونږ تاسوته او ساتوئے په رحمونو كښ څومره
وخت چه مونږ غواړو ترنيټے مقرر پورے بيا را اوباسو تاسو لره واړه (بيا پالنه كؤو ستاسو) دپاره دَ دے چه
اورسيرئ ځوانئ خپلے ته او بعض ستاسونه هغه دی چه مړكړيشی او بعض ستاسونه هغه دی چه
اوكړځولے شی سپك عمر ته عاقبت داشی چه نه پوهيږی روستو دَ پوهے نه په هيڅ ځيز باندے او وينے ته
زمكے لره اوچه پرته پس كله چه راورژو مونږ په هغے باندے اوبه تياره شی دپاره دَ زرغونئ او بوګه شی او
راتوكوی دَ هر قسم تازه نه (٥) دا دليل دے په دے خبره چه اللّٰه تعالیٰ حق دے او يقيناً هغه به ژوندی كوی

يا په معنیٰ دَ لزوم دے يعنی دَ دهٗ تابعداری كول مستلزم دی كمراهئی لره ﴿تَوَلَّاهُ﴾ تابعداری اوتقليد دَ هغه كوی (ابن كثير)۔

[٥] په دے ايت كښ اثبات دَبعث بعد الموت اواثبات دَتوحيد دے په دوه دليلونوعقليوسره اول دليل پيدائش دَانسان په مختلفواطواراوانقلاباتوسره چه هغه شپږدی تروخت دَپيدائش پورے بيا دوه حالتونه دی حال دَځوانئ اوحال دَ ډيربوډاوالی (چه هغے ته هرم وائي) اوورسره ذكردَمړك دے ﴿مِنْ تُرَابٍ﴾ دَ دے نه مراد پيدائش دَ آدم عليه السلام دے او ﴿ثُمَّ مِنْ نُّطْفَةٍ﴾ نه مراد پيدائش دَ اولاد دے يا داچه ټول انسانان دَ خاؤرونه پيداشوی دی ځكه چه خوراكونه ټول دَخاؤرونه پيداكيږی او دَخوراكونونه بدن اووينه جوړيږی اوبيا دَ هغے نه نطفه جوړيږی ﴿طِفْلًا﴾ په دے كښ معنیٰ دَ تابعداریٔ ده نو چه څومره پورے دَ مورتابع وی هغے ته خوراك څښكاك كښ محتاج وی نوورته طفل وئيلے كيږی ﴿مِنْۢ بَعْدِ عِلْمٍ شَيْـًٔا﴾ دارنګ سورة نحل (٧٠) كښ تيرشويدی (فرق) دا دے چه سورة نحل كښ بعد علم دے اودے ايت كښ (من بعد علم) دے يعنی كه لږعلم وی هغه به هم زائل شی اوكه ډير علم وی هغه به هم زائل شی كله چه سورة نحل كښ په دغه ايت كښ دوه حالتونه ذكركړيدی نودا لږعلم دے اوپه دے ايت كښ ډيرحالتونه ئے ذكركړونودا ډيرعلم دے۔ واللّٰه اعلم بالصواب ﴿وَتَرَى الْاَرْضَ﴾ دَ دے ځائے نه دويم دليل دے پيدائش دَبوټوDَ زمكے نه او دَ هغے څلورحالتونه ئے ذكركړی دی اودلته خطاب ئے مفرد ذكركړے دے اوتيرشوی دليل كښ خطاب ئے جمع ذكركړے دے وجه دا چه دَ خپل پيدائش په حالاتوباندے هرڅوك خبريدلے شی اودَ زمكے نه دَ بوټو زرغونيدلوپه حال هرڅوك نشی خبركيدلے ﴿اهْتَزَّتْ﴾ اهتزازحركت كولوته وائی

اَلۡمَوۡتٰى وَاَنَّهٗ عَلٰى كُلِّ شَىۡءٍ قَدِيۡرٌ ۙ﴿۶﴾ وَّاَنَّ السَّاعَةَ اٰتِيَةٌ لَّا رَيۡبَ فِيۡهَا ۙ وَاَنَّ اللّٰهَ يَبۡعَثُ
مَنۡ فِى الۡقُبُوۡرِ ﴿۷﴾ وَمِنَ النَّاسِ مَنۡ يُّجَادِلُ فِى اللّٰهِ بِغَيۡرِ عِلۡمٍ وَّلَا هُدًى وَّلَا كِتٰبٍ مُّنِيۡرٍ ۙ﴿۸﴾
ثَانِىَ عِطۡفِهٖ لِيُضِلَّ عَنۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ ؕ لَهٗ فِى الدُّنۡيَا خِزۡىٌ وَّنُذِيۡقُهٗ يَوۡمَ الۡقِيٰمَةِ عَذَابَ

مړو لره او یقیناً هغه په هر څیز باندے قدرت لری (٦) او یقیناً قیامت راتلونکے دے نیشته شك په هغے کښ او یقیناً اللّٰه تعالیٰ ژوندی کوی به هغه څوك چه په قبرونو کښ دی (٧) او بعضے دَ خلقونه هغه څوك دی چه جګړه کوی په توحید دَ اللّٰه تعالیٰ کښ بغیر دَ پوهے نه او بغیر دَ هدایت نه او بغیر دَ کتاب رنړا کۀونکی نه (٨) تاوهی د ډه خپله د ے دپاره چه ګمراه کړی نور خلق دَلارے دَ اللّٰه تعالیٰ نه دَ دهٗ دپاره په دنیا کښ شرمندګی ده او اوبه څکۀو دهٗ لره دَ قیامت په ورځ عذاب

یعنی تخم چه په زمکه کښ دننه پرسیږی نوزمکه ورسره خوزیږی یا مراد دَ اهتزازنه قابل کیدل دَ زمکے دی دپاره دَ بوټو راویستلو دا هم حرکت حکمیه دے۔

[٧،٦] په دے دواړو ایاتونو کښ نتیجه دَ دلیلونومخکنوذکرکوی په پنځوطریقوسره اوله نتیجه توحید دے په دے جمله کښ ﴿بِاَنَّ اللّٰهَ هُوَ الۡحَقُّ﴾ دَ حق یومعنیٰ دا ده چه دَ هغه وجود یقینی دے تغییر، تبدیل په هغه باندے نه رائځی۔ دویمه معنیٰ داده چه دَهغه بندګی کول اوالوهیت حق دی۔ دویمه نتیجه ﴿اَنَّهٗ يُحۡىِ الۡمَوۡتٰى﴾ یعنی دَ خاؤرونه انسان پیداکولے شی اودَ زمکے نه تازه بوټی راویستے شی نومړی هم دوباره ژوندی کولے شی دریمه نتیجه ﴿وَاَنَّهٗ عَلٰى كُلِّ شَىۡءٍ قَدِيۡرٌ﴾ یعنی قدرت دَ اللّٰه تعالیٰ په پیدا کولو دَ انسان او دَ بوټو مستلزم دے قدرت لره په هرځیزباندے۔ څلورمه نتیجه ﴿وَّاَنَّ السَّاعَةَ﴾ مراد دَ دے نه یا ساعت دَفنا دَټول عالم دے یعنی لکه چه هرانسان باندے فناراځی اوهربوټی اوچیږی نودا دلیل دے چه ټول عالم به فناشی یامراد دَ ساعت نه قیام دَ ورځ دَ حساب دے یعنی په انسانانوباندے دَ دے نعمتونو ذکرکړے شوۀ دپاره ورځ دَحساب به قائم شی چه په هغے کښ به دَشکردَ نعمتونوتپوس کیږی۔ پنځمه نتیجه ﴿وَاَنَّ اللّٰهَ يَبۡعَثُ مَنۡ فِى الۡقُبُوۡرِ﴾ چه دَخاؤرونه ئے انسان پیداکړواودَ وچے زمکے نه شنه بوټی پیداکړه نودارنګ دَخاؤرودَ قبرونونه بیاهم انسان پیداکولے شی۔ دَ (بعث) معنیٰ روح په بدن کښ اچول دی روستودَ راوتلونه اومن فی القبورنه بدن مراد دے یعنی بدنونو کښ بیا روح اچوی۔

[٨] په دے آیت کښ زجردے په جدال کولودَ اهل علموعنادیانودَحق سره اومراد دَ جدال فی اللّٰه نه جدال کول دی په توحید دَ اللّٰه تعالیٰ کښ اوپه باره دَ دوباره ژوندی کولو کښ۔ ﴿عِلۡمٍ﴾ نه مراد علم عقلی استعدادی دے ﴿هُدًى﴾ نه مراد علم نقلی دے دَ هدایت والونه ﴿كِتٰبٍ مُّنِيۡرٍ﴾ نه مراد کتاب وحی دے څکه چه زیاته رنړاپه کتاب اللّٰه تعالیٰ کښ ده۔ یعنی دریے قسمه دلیلونه ورسره نیشته یعنی اګرچه عالم دے لیکن جدال په حق کښ بے دلیله کوی۔

الْحَرِيْقِ ۝٩ ذٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ يَدٰكَ وَاَنَّ اللّٰهَ لَيْسَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ ۝١٠ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّعْبُدُ اللّٰهَ
عَلٰى حَرْفٍ ۚ فَاِنْ اَصَابَهٗ خَيْرُ ِۨ اطْمَاَنَّ بِهٖ ۚ وَاِنْ اَصَابَتْهُ فِتْنَةُ ِۨ انْقَلَبَ عَلٰى وَجْهِهٖ ۚ خَسِرَ الدُّنْيَا
وَالْاٰخِرَةَ ۭ ذٰلِكَ هُوَ الْخُسْرَانُ الْمُبِيْنُ ۝١١ يَدْعُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَضُرُّهٗ وَمَا لَا يَنْفَعُهٗ ۭ ذٰلِكَ

دَ اور سوزۈونکی (۹) دا په وجه دَ هغه عملونو چه وړاندے لیږلی دی لاسونو ستا اوپه دے وجه چه اللّٰه تعالیٰ نه دے ظلم والا په بندګانو خپلو باندے (۱۰) او بعض دَ خلقو نه هغه دی چه بندګی دَ اللّٰه تعالیٰ کوی په شك باندے پس که اورسیږی دهٗ ته خیر کلك شی په هغے اوکه اورسیږی دهٗ ته تکلیف اپوټه شی په مخ خپل باندے تاوانی کړه دهٗ دنیا او اخرت لره دا تاوان دے ښکاره (۱۱) رامدد شه وائی سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه هغه چاته چه ضرر نشی ورکولے دهٗ ته او هغه چاته چه نفع نشی ورکولے دهٗ ته دا

[۹] ﴿عِطْفِهٖ﴾ یواړخ ته وئیلے کیږی یعنی اړخ ګرځوی دَحق دَ اوریدلونه دَ دے دپاره چه خپل مقلدینو لره ګمراه کړی لکه سورة انعام (۲۶) کښ دی مفسرقرطبی دَ عبداللّٰه بن عباس رضی اللّٰه عنهما نه روایت کړے دے چه دا (مذکورپه دے ایت کښ) هربدعتی دے په ﴿نُذِيْقُهٗ﴾ کښ اشاره ده چه دَګرموالی او سوزش احساس به کولے شی نشه به نه وی۔ دے روستو دواړه جملو کښ تخویف دنیوی اواخروی دے۔

[۱۰] یعنی دَ عذاب دپاره دوه سببه دی یوعمل دَمجرم دویم عدم ظلم (یعنی عدل) دَ اللّٰه تعالیٰ ، یعنی مجرم له سزا ورکول دَ اللّٰه تعالیٰ دَعدل تقاضا ده اوداپه سورة العمران (۱۸۲) کښ تیرشویدی ﴿بِظَلَّامٍ﴾ صیغه دَ فاعل ذوکذا ده یعنی ذوظلم صیغه دَمبالغے نه ده۔

[۱۱] مخکے دوه قسمونه دَخلقو بیان شول اوس دے ایت کښ دریم قسم ذکرکوی په طریقه دَ زجرسره اوپه دے کښ منافق اومفاد پرست مراد دے یعنی دین اسلام منی یا دَ دین کارکوی دَ دنیا په غرض سره که دغه غرض حاصلیږی نواسلام مَنی اوعمل دَ دین کوی اوکه غرض دنیوی نه حاصلیږی نوبیا اعراض کوی اودَ دے مصداق په دے وخت کښ ډیرموجود دے توحید اوسنت په دے غرض اومنی چه مال دَ دنیا اوعزت دَ دنیا به ملاؤ شی اوقرآن لولی په دے اراده چه اجرت به ملاؤشی جنازے له ورځی په دے نیت چه څه مال به حاصل کړی اوچه دا مقصدونه حاصل نشی نوبیا هیڅ نه منی اونه عمل کوی ﴿حَرْفٍ﴾ په معنیٰ دَ شك دے یعنی په توحید اودین باندے یقین نه لری یا په معنیٰ دَطرف اواړخ دے یعنی په طرف اودِ ډه سره اوسی پوره اسلام کښ نه داخلیږی ﴿وَجْهِهٖ﴾ نه مراد دین باطل دے ﴿خَسِرَ الدُّنْيَا﴾ تاوان دَ دنیا دا دے چه په مسلمانانو کښ دَمنافقت دَ وجے نه ذلیل شی اونورخلق هم وربانده اعتبار نه کوی۔ اوتاوان دَ آخرت دا دے چه څه عبادتونه ئے په منافقت سره کړی دی هغه ټول برباد شی ﴿خَيْرٌ﴾ نه مراد دَ دنیا فائدے دی څوے کیدل، مالدارکیدل، دَ بدن صحت، دَ دنیا عزت اواقتدار ﴿فِتْنَةُ﴾ نه مراد تکلیفونه دی یعنی غریب شی، قحط راشی، اولاد ئے نه کیږی، بیمارشی، دَامامت اوتدریس یا دَ یودنیوی مرتبے نه محروم شی۔

هُوَ الضَّلٰلُ الْبَعِيْدُ ﴿۱۲﴾ يَدْعُوْا لَمَنْ ضَرُّهٗۤ اَقْرَبُ مِنْ نَّفْعِهٖ ؕ لَبِئْسَ الْمَوْلٰى وَلَبِئْسَ الْعَشِيْرُ ﴿۱۳﴾ اِنَّ اللّٰهَ يُدْخِلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَفْعَلُ مَا

گمراهی ده لرے دَ حق نه (۱۲) بندګی کوی دَ هغه چاچه ضرر دَ بندګئ دَ هغه زیات نزدے دے دَ فائِدے دَ هغه نه خامخا ناکاره دوست دے او خامخا ناکاره ملګرے دے (۱۳) یقیناً اللّٰه تعالیٰ داخلوی به هغه کسان چه ایمان ئے راوړے او عملونه ئے کړیدی په تابعدارئ دَ سنت جنتونو ته چه بهیږی لاندے دَ هغے نه ولے یقیناً اللّٰه تعالیٰ کوی هغه څه

[۱۲] دا بیان دَ انقلب دے یعنی شرك کوی اودا رد دے په شرك فی الدعا باندے ﴿يَدْعُوْا﴾ مراد دَ دے حاجتونه غوختل فریادونه کول، مدد غوختل روزی طلب کول (ابن کثیر) ﴿مَالَا يَضُرُّهٗ وَمَالَا يَنْفَعُهٗ﴾ مراد دا دے چه په پریښودلودَ دُعا سره ضرر نشی ورکولے اودُعاکولو سره نفع نشي ورکولے یا مطلق نیشت والے دَ ضرر او نفع رسولو مراد دے او دا غوره قول دے۔

[۱۳] دا هم رد دے په شرك فی الدعا باندے یا په دے کښ سبب دَ شرك ذکرکوی چه هغه تابعداری کول دَمشرکانودی، په دے ایت کښ اشکال دے په څووجوسره اول دا چه تیرشوی ایت کښ دَمعبود من دون اللّٰه نه نفی دَ ضرراودَ نفع کړیده اوپه دے ایت کښ ضرراونفع ئے ورله ثابت کړیدی؟ جواب په دوه طریقوسره دے اول داچه دے ایت کښ مراد مشرکان اومبتدعین پیران اومُلیان دی چه خلق ګمراه کوی اوخلقو ته بعضے دنیوی فائدے دَ مال اوخوراك هم ورکوی لیکن دَ دغه خلقوایمان او دین ته نقصان ورکوی نوضرر ئے ډیر زر ورسیږی دَ نفع نه۔ دویم جواب دا دے په دے ایت کښ ئے دَ ضررنه مرادګناه اوعذاب دے چه دَ شرك په وجے سره مشرك ته رسیږی اودَ نفع نه مراد فائده ده په ګمان دَمشرك کښ۔ دویم اشکال دا دے چه (لَمَنْ ضَرُّهٗۤ) په ظاهرکښ مفعول دَ یَدعوا دے اولام خوپه ابتداء دَکلام کښ راځی اومفعول خومینځ دَ جملے وی؟ اول جواب دا دے چه دَیدعوامفعول حذف دے یدعوا غیراللّٰه اولمن موصول سره دَصِلے نه مبتداده اولَبِئسَ المَولٰی ئے خبردے۔ دویم جواب دا دے چه دَ دے لام محل جمله صله ده (ضره اقرب) یعنی تقدیم ئے کړے شویدے اودا جائزدے په کلام دَعربوکښ۔ دریم جواب دا دے چه یدعوابه معنیٰ دَیقول دے اولمن آه مقوله ده اوهغه جمله وی۔ دَ هغے په صدر (اول) کښ لام داخلیدلے شی۔ دریم اشکال یدعوا محکے ایت کښ ذکرکړے شوے دے نوپه دے ایت کښ تکرار ولے اوکړو؟ اول جواب یدعوا په معنیٰ دَ یطیع دے لکه په سورة النساء (۱۱۷)کښ دی یعنی طاعت کوی په شرك اوبدعاتوکښ دَمشرکانومقتداګانو۔ دویم جواب یدعوا مکرردپاره دَ اظهاردَکثرتِ دعا دَغیراللّٰه دے۔

فائده: هرکله چه مقتداګمراه کوؤنکے دوه قسمه دے یولوئے چه خلقوله دَځان نه دین جوړوی لکه چه پیرامرشد ګنړلے کیږی نوهغه مولیٰ دے اودویم دَ شرك اوبدعاتوملګرے چه بل ملګری ته ګناه خائسته کوی اودَ هغه سره ملګرتیاکوی پیربائی ورته وئیلے کیږی نوهغه عشیردے۔

يُرِيْدُ ﴿۱۴﴾ مَنْ كَانَ يَظُنُّ اَنْ لَّنْ يَّنْصُرَهُ اللّٰهُ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ فَلْيَمْدُدْ بِسَبَبٍ اِلَى السَّمَآءِ ثُمَّ لْيَقْطَعْ فَلْيَنْظُرْ هَلْ يُذْهِبَنَّ كَيْدُهٗ مَا يَغِيْظُ ﴿۱۵﴾ وَكَذٰلِكَ اَنْزَلْنٰهُ اٰيٰتٍۭ بَيِّنٰتٍ ۙ وَّاَنَّ اللّٰهَ يَهْدِيْ مَنْ يُّرِيْدُ ﴿۱۶﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَالَّذِيْنَ هَادُوْا وَالصّٰبِـُٔوْنَ وَالنَّصٰرٰى وَالْمَجُوْسَ وَالَّذِيْنَ اَشْرَكُوْٓا ۖ

چه اوغواړی(۱٤) هغه څوك چه ګمان کوی چه هیڅ چرے به امداد اونکړی الله تعالیٰ دَ دهٔ سره په دُنیا او اخرت کښ پس اوګڼده دے کړی رسئی اسمانه ته بیا دے پریکړی نو اودے ګوری ایا بوځی به داچل دَ دهٔ هغه څه لره چه دے ئے غصه کړے دے (۱۵) او دارنګ نازل کړیدے مونږ دا قرآن ایاتونه واضح او یقیناً الله تعالیٰ هدایت کوی هغه چاته چه الله تعالیٰ ئے اراده اوکړی (۱٦) یقیناً هغه کسان چه ایمان والادی او هغه کسان چه یهودیان دی او صابیان او نصاریٰ او مجوسیان دی او هغه کسان چه شرك ئے کړیدے

[۱٤] په دے ایت کښ څلورم قسم دَخلقوذکردے چه هغه مؤمنان دی اودَ هغوی دپاره بشارت اخرویه دے ﴿اِنَّ اللّٰهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيْدُ﴾ په دے کښ جواب دے که څوك وهم اوکړی چه الله تعالیٰ ولے بعض خلق ګمراه کوی اوبعضوته هدایت کوی؟ حاصل جواب دا دے چه الله تعالیٰ په خپله اراده سره دَ ډیر حکمتو نو د پاره کارکوی۔

[۱۵] دا ایت زجردے اوتعلق لری دَ (۱۱)سره اوپه دے کښ ډیرتوجیهات دی اول ربط اوتوجیه دا ده چه هرکله دغه منافق ته په دین دَ محمد ﷺ کښ فتنه اومصیبت اورسی اومدد دَ الله تعالیٰ ترینه روستوشی نودے ګمان کوی چه الله دَ دے نبی سره امداد نه کوی اوغصه شی(ځکه چه دَامتی سره نصرت نه کیدل دا دَ دے وجے نه چه دَنبی سره نصرت نیشته دَ دے سړی په خیال کښ) په دے تفسیرسره ضمیردَ ینصره راجع دے من ته ﴿فَلْيَمْدُدْ بِسَبَبٍ﴾ نه مراد دا دے چه رسئی دِ دَجهت سره آویزانه کړی اوخپل ځان له دے مړئے خفه کړی یعنی دا سړے که دَغصّے دَ وجے نه ځان هلاك کړی نوهیڅ فائده ترے نه راځی نوولے غصّه کیږی نو﴿هَلْ يُذْهِبَنَّ﴾ استفهام انکاری دے په دے توجیه مراد دَسماء نه چهت دے اوثم لْیقطع په معنیٰ دَمړے خفه کولو (پهانسی کولو) دے۔ دویمه توجیه سره دَ ربط نه دا ده چه دَ دے منافقانواومشرکانودَ نبی ﷺ سره دشمنی پیدا شویده اودوی غواړی چه الله تعالیٰ دِ دَ دے نبی سره هیڅ امداد اونکړی نوامداد اووحی راځی دَ اسمان نه نودے دِ دَ رسئی په ذریعه اسمان ته اورسی اودَهغه ځائے نه دِ امداد قطع کړی آیا په دے تدبیربه دَ دهٔ مقصد حاصل شی (نه حاصلیږی) په دے تفسیر ضمیرراجع دے نبی ﷺ ته اودَګمان نه مراد تمناکول دی اوسماء نه مراد آسمان دے۔ اوقطع نه مراد بندول دَ وحی اودَ امداد الٰهی دے اوهل یذهبن کښ استفهام انکاری دے۔

[۱٦] په دے کښ ترغیب دے قرآن کریم ته یعنی لکه چه مونږامرکړے دے په صبرسره اودَ نصرت وعده هم کړے ده دغه شان مونږدا قرآن کریم هم دَ تسلئی اودَ هدایت اواستقامت دَپاره رالیږلے دے۔ یا لکه چه مونږاثبات دَ توحید اوقیامت اوکړو په دلیلونوعقلیوسره دغه شان دَ دے دَپاره مونږقرآن کریم نازل کړے دے۔

اِنَّ اللّٰهَ يَفْصِلُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ ﴿۱۷﴾ اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ يَسْجُدُ لَهٗ
مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَمَنْ فِي الْاَرْضِ وَالشَّمْسُ وَالْقَمَرُ وَالنُّجُوْمُ وَالْجِبَالُ وَالشَّجَرُ وَالدَّوَآبُّ
وَكَثِيْرٌ مِّنَ النَّاسِ ؕ وَكَثِيْرٌ حَقَّ عَلَيْهِ الْعَذَابُ ؕ وَمَنْ يُّهِنِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ مُّكْرِمٍ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَفْعَلُ
مَا يَشَآءُ ﴿۱۸﴾ السجدة ۲ هٰذٰنِ خَصْمٰنِ اخْتَصَمُوْا فِيْ رَبِّهِمْ ۫ فَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا قُطِّعَتْ لَهُمْ ثِيَابٌ مِّنْ نَّارٍ ؕ

یقیناً اللّٰه تعالیٰ به جدائی راولی په مینځ د دوی کښ په ورځ د قیامت یقیناً اللّٰه تعالیٰ په هر څیز باندے حاضر ناظر دے (۱۷) ایا نه ګورے ته چه یقیناً اللّٰه تعالیٰ ته سجده کوی هغه څوك چه په اسمانونو کښ دی او هغه څوك چه په زمکه کښ دی او نمر او سپوږمئ او ستوری او غرونه او ونے او زنده سر او ډیر د خلقو نه او ډیرو باندے پوره شویده فیصله د عذاب او هغه څوك چه سپك کړی هغه لره اللّٰه تعالیٰ نو نیشته هغه لره هیڅوك عزت ورکؤونکے یقیناً اللّٰه تعالیٰ کوی هغه څه چه اوغواړی(۱۸) دا دوه ډلے دی چه جګړه کوی په باره د رب د دوی کښ پس هغه کسان چه کفرئ کړے دے جوړولے به شی دوی دپاره (د ډیرو ټکړونه) جامے د اور

[۱۷] په دے آیت کښ ذکر د فِرقومشهورو د مخلقو دے چه یوه فرقه د مؤمنانوده چه د آیات بینات نه فائده اخلی اونورے فرقے د دغه آیاتونه اعراض کوؤنکے نن په دنیاکښ مشترك دی۔ لیکن قیامت کښ به اللّٰه تعالیٰ د دوی په مینځ کښ فیصله اوکړی مؤمنان به جنت ته داخل کړی اونورنه جهنم ته داخل کړی اوإِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ، دلیل د يَفْصِلُ دے یعنی اللّٰه تعالیٰ په هرځیزخبردے نوحقه فیصله به اوکړی۔

فائده: ابن عطیه په تفسیرکښ د قتاده نه روایت کړے دے چه ټول اصول ادیان شپږدی پنځه د شیطان دی اویود رحمان دے او ﴿الصّٰبِئِيْنَ﴾ هغه قوم دے چه د مَلائکوعبادت کوی او کعبے ته مخ کوی او توحید (په خپل ګمان کښ) منی او زبورکتاب لولی۔ او(مجوسیان) هغه دی چه د اُوراورنړا اونمراوسپوګمئ عبادت کوی ﴿وَالَّذِيْنَ اَشْرَكُوْٓا﴾په دے کښ غیرکتابی شرك کوؤنکی مراد دی د هغوی بل نوم نیشته ځکه ئے په اشرکواسره ذکرکړیدی نومخکښ بعضوډلوکښ هم شرك شته لیکن داعطف د وجے د مغایرت د نوم نه دے۔

[۱۸] دا ایت دلیل عقلی دے چه سجود د ټول عالم اللّٰه تعالیٰ ته دلیل دے د اللّٰه تعالیٰ په توحید اوپه عظمت باندے اوپه ایت کښ هغه مخلوقات ئے ذکرکړی دی چه مشرکانودّهغوی عبادت کړے دے نود هغه معبودانوباطلوعجزبیانوی ابن عطیه ذکرکړے دے چه حمیر قبیلے د نمرعبادت کوؤ اوکنانه د سپوږمئ اوتمیم د دبران ستوری اولخم دَمشتری ستوری اوطیی د ثریا اوقریش دَشعری اواسد دَعطارد اوربیعه دَمرزم ستوری عبادت کوؤاودَ غرونواودَ ونونه معبودان جوړوی اودواب کښ بقراو مار او چرګ داخل دے چه د هغوی عبادت کړے شوے دے نوپه دے ایت کښ ډلودَ مشرکانوته اشاره ده په طریقه د رد کولوسره په هغوی باندے ﴿وَكَثِيْرٌ مِّنَ النَّاسِ﴾ نه روستولفظ دَمرحومون پټ مراد دے یا دا عطف دے په من فی الارض باندے د قبیلے دَعطف دَخاص نه په عام باندے ﴿وَكَثِيْرٌ حَقَّ عَلَيْهِ الْعَذَابُ﴾ نه روستوخبرحذف دے یعنی مُهانون ذلیلون او مراد په ایت کښ سجده په رضا اوپه توحید سره۔ یامراد دَسجدے نه عام دے که طوعاً وی یاکرهاً نودَ كَثِيْرٌ حَقَّ نه روستوتقدیر ته حاجت نیشته بلکه په مخکے باندے عطف دے﴿وَمَنْ يُّهِنِ اللّٰهُ﴾

يُصَبُّ مِنۡ فَوۡقِ رُءُوۡسِهِمُ الۡحَمِيۡمُ ﴿۱۹﴾ يُصۡهَرُ بِهٖ مَا فِىۡ بُطُوۡنِهِمۡ وَالۡجُلُوۡدُ ﴿۲۰﴾ وَلَهُمۡ مَّقَامِعُ
مِنۡ حَدِيۡدٍ ﴿۲۱﴾ كُلَّمَاۤ اَرَادُوۡۤا اَنۡ يَّخۡرُجُوۡا مِنۡهَا مِنۡ غَمٍّ اُعِيۡدُوۡا فِيۡهَا ۫ وَذُوۡقُوۡا عَذَابَ الۡحَرِيۡقِ ﴿۲۲﴾ ع ۲ ۱۲ ۹
اِنَّ اللّٰهَ يُدۡخِلُ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ جَنّٰتٍ تَجۡرِىۡ مِنۡ تَحۡتِهَا الۡاَنۡهٰرُ يُحَلَّوۡنَ فِيۡهَا
مِنۡ اَسَاوِرَ مِنۡ ذَهَبٍ وَّلُؤۡلُؤًا ؕ وَلِبَاسُهُمۡ فِيۡهَا حَرِيۡرٌ ﴿۲۳﴾ وَهُدُوۡۤا اِلَى الطَّيِّبِ مِنَ الۡقَوۡلِ ۚ

اړولے به شی پورته دَ سرونو دَ دوی نه یشیدلے اوبه (۱۹) ویلے کیدے به شی په هغے سره هغه څه چه دَ دوی په خیټو کښ دی او څرمنے (۲۰) او دَ دوی (دَ وهلو) دپاره ګُرزونه دی دَ اوسپنے نه (۲۱) هر وخت چه اوغواړی چه اوځی دَ اور نه دَ غم دَ وجے نه واپس به ګرځولے شی په هغے کښ (وئیلے کیږی به) اوځکئے عذاب دَ اور سوزۈونکی (۲۲) یقیناً اللّٰه تعالیٰ به داخلوی هغه کسانو لره چه ایمان ئے راوړے دے اوعملونه ئے کړیدی په تابعداریٔ دَ نبی جنتونوته چه بهیږی به لاندے دَ هغے نه ولے خائسته کیدے به شی دوی په هغے کښ په بنګړو دَ سرو زرو او ملغلرے او جامے دَ دوی به په هغے کښ ریښم به وی (۲۳) او هدایت ورکړے شوے دَ دوی پاکے وینا ته

مراد دَ اهانت نه ترك دَ سجود دَ اللّٰه دے۔

[۱۹] ﴿هٰذٰنِ﴾ کښ اشاره ده هغه دوه فریقومقابلینوته چه ذکرشوی دی تیرشوی دواړه اياتونو کښ هغوی اګرچه ډیرے ډلے دی لیکن مرجع دَهغوی دوه ډلوته ده۔ اودَ دوی اختصام اواختلاف همیشه دے په باره دَتوحید دَاللّٰه تعالیٰ اودَصفاتودَ هغه کښ یعنی دَ دوی اختلاف دَ دنیا په مقاصدوباندے بنانه دے بیایوفریق ته تخویف اوبل فریق ته بشارت تفصیلاًذکرکوی اودا دَ دوی په مینځ کښ فیصله ده﴿قُطِّعَتۡ لَهُمۡ ثِيَابٌ مِّنۡ نَّارٍ﴾مرادترینه دا دے چه دَجهنم دَجنس نه به دَدوی دَپاره جامے جوړولے شی لکه سورة ابراهیم (۵۰) کښ دی یاداکنایه ده چه اُوربه په دوی باندے داسے احاطه اوکړی لکه جامه په بدن باندے۔

[۲۰] دَ دے تفسیرپه حدیث دَ ترمذی کښ موجود دے چه رسول اللّٰهﷺ فرمائیلی دی چه حمیم به دَ دوی دَ سرونودَپاسه واړولے شی نواوبه رسی دننه خیټودَ دوی ته نودَ دوی دَخیټونه به لاندے اوبهیږی ترخپوپورے اوداصهردے بیا به دوباره دَ دوی بدنونه جوړ کړے شی ﴿وَالۡجُلُوۡدُ﴾ دَ دے سره مناسب فعل پټ مراد دے یعنی تحرُّق اوتشوِیٔ یعنی څرمنے به اوسوزولے شی روتے به کړے شی۔

[۲۱،۲۲] ﴿مَقَامِعُ﴾ دَ قمع نه ماخوذدے ذلیل کولوته وئیلے کیږی یعنی دَ ذلیل کولوپه طریقه به وهلے کیږی اوتختیدوته به ئے نه پریږدی که صرف اراده دَ تختیدلوکوی نوپه دغه ګرزونو سره به ئے وهی او دارنګ سورة سجده (۲۰) کښ دی۔

[۲۳] محکمبن یوخصم ئے ذکرکړوپه طریقه دَتخویف اخروی اوس په دے ایت کښ ذکردَبل خصم دے په طریقه دَبشارت اخرویه۔ په تخویف کښ عذاب دَ شرمندګئے اواهانت ئے ذکرکړے وونوپه دے بشارت کښ ډیراکرام اوعزت ئے ذکرکړے دے ﴿اَسَاوِرَ﴾ به صرف په لاسونوکښ وی او﴿وَلُؤۡلُؤًا﴾ به په پوله بدن باندے وی محکه ئے لُؤلُؤًا جدا ذکرکړواوداسے په سورة فاطر(۳۳)کښ دی اوسورة دهر (۲۱) کښ﴿فِضَّةٍ﴾ (سپین زر) ذکرکړیدی اشاره ده اقساموَ اساوروته چه بعضے به ذهب دَ(سرو زَ رو) وی اوبعضے به دَسپینو

وَهُدُوْٓا اِلَى صِرَاطِ الْحَمِيْدِ ﴿۲۴﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَيَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَالْمَسْجِدِ الْحَرَامِ الَّذِيْ جَعَلْنٰهُ لِلنَّاسِ سَوَآءَ ۨ الْعَاكِفُ فِيْهِ وَالْبَادِ ؕ وَمَنْ يُّرِدْ فِيْهِ بِاِلْحَادٍ ۢ بِظُلْمٍ نُّذِقْهُ مِنْ عَذَابٍ اَلِيْمٍ ﴿۲۵﴾ وَاِذْ بَوَّاْنَا لِاِبْرٰهِيْمَ مَكَانَ الْبَيْتِ اَنْ لَّا تُشْرِكْ بِيْ شَيْـًٔا وَّطَهِّرْ ع ۳

او هدایت ورکړے شوے ژو دَ دوی لارے دَ ستائیلی شوی ذات ته (۲٤) یقیناً هغه کسان چه کفرئے کړے دے اومنع کوی دَ لارے دَ اللّٰه تعالیٰ نه او دَمسجد حرام نه هغه چه گرځولے دے مونږ هغه دَ خلقو دپاره برابر دیره په هغے کښ او مسافر او چاچه اراده اوکړه په هغے کښ دَکک لیچ په ظلم سره اوبه څکوو هغه ته دَ عذاب درد ناك نه (۲۵) او هر کله چه ځائے ورکړو مونږ ابراهیم(علیه السلام) ته په ځائے دَ بیت اللّٰه کښ (اُوئیل مونږ) چه شریك مه جوړوه ما سره هیڅ څیز او پاك ساته

زرونه وی۔ سورة دهرکښ ئے لوڅی دَجنت هم دَسپینوزروذکرکړی دی نوښگړی ئے هم دَ سپینو زرو ذکر کړی دی اوپه دے سورة کښ دَتقابل دَوجے دَجنتیانوډیراکرام مقصدوؤ۔ نو دَ دے وجے نه ذهب ئے ذکر کړل۔

[۲٤] دے ایت کښ سبب دَ بشارت ئے ذکرکړے دے ﴿الطَّيِّبِ مِنَ الْقَوْلِ﴾ نه مراد کلمه دَ توحید ده او ﴿صِرَاطِ الْحَمِيْدِ﴾ نه مراد قرآن پاك دے۔

[۲۵] په دے ایت کښ تخویف دے هغه قسم کافرانوته چه دَ هغوی کفرمتعدی دے اوښکاره خصومت کوی ځکه چه دَ سَبِيلُ اللّٰه نه منع کوی ﴿وَيَصُدُّوْنَ﴾ صیغه دَ مستقبل ئے راوړله اشاره ده چه دوی منع کول هروخت کوی دَ دے وجے نه داخاص نه دے په حدیبیه پورے لکه چه بعضے مفسرینولیکلی دی۔ ﴿وَالْمَسْجِدِ الْحَرَامِ﴾ نه مراد خاص مسجد دے چه په هغے کښ په اتفاق دَ اهل علموسره مقیم او مسافر برابردی اوکه دَ دے نه مراد ټول حرم وی په ذکردَجزء اومراد ترے نه کل وی نودَ هغے په برابروالی کښ دَ علماؤ اختلاف دے اودا قید دَ مزید قباحت دَ دوی دے چه دامسے ځائے چه مقیم اومسافرپکښ برابر حقوق لری اودوی دَ هغے نه منع کول کوی ﴿وَالْبَادِ﴾ نه روستودا لفظ پټ مراد دے خبردَ انّ خسروُا وَهلکوا۔ ﴿وَمَنْ يُّرِدْ﴾ کښ اشاره ده چه په حرم کښ په اراده دَګناه سره هم عتاب دے اودا دَعبد اللّٰه بن مسعودﷺ نه روایت دے ﴿بِظُلْمٍ﴾ عام دے شرك اوکفر کول ناحق قتل کول بنکارکول ونے پریکول بغیردَاحرام نه داخلیدل (سره دَ اراده دَعمرے یاحج نه) کنځل کول قسمونه کول وغیره۔ یعنی هرکله چه صرف ارادے دَګناه سره په حرم کښ دَعذاب استحقاق دے نودَ دے نه په منع کولوسره خودَلوئے عذاب استحقاق دے صحیح حدیث کښ وارد دی چه درے قِسَم کسان اللّٰه تعالیٰ ته ډیرمبغوض دی یودَ هغوی نه الحاد کوونکے دے په حرم کښ۔

بَيْتِيَ لِلطَّآئِفِيْنَ وَالْقَآئِمِيْنَ وَالرُّكَّعِ السُّجُوْدِ ﴿۲۶﴾ وَاَذِّنْ فِي النَّاسِ بِالْحَجِّ يَاْتُوْكَ رِجَالًا وَّعَلٰى
كُلِّ ضَامِرٍ يَّاْتِيْنَ مِنْ كُلِّ فَجٍّ عَمِيْقٍ ﴿۲۷﴾ لِّيَشْهَدُوْا مَنَافِعَ لَهُمْ وَيَذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ فِيْ

کور ځما د پاره دَ طواف کؤونکو او په ولاړه سره (عبادت کؤونکو) اورکوع سجده کؤونکولره (۲۶) او اعلان اوکړه په خلقو کښ دَ حج نو راځی به تاته پیاده او سواره په هره تیز رفتاره سورلئ چه راځی به دَ هرے لارے لرے نه (۲۷) دے دپاره چه حاضر شی فائِدو خپلو ته او یاد کړی نوم دَ اللّٰه تعالیٰ په

[۲۶] دَ دے ایت نه دویم باب دے تر(۳۸) پورے په دے کښ دلیل نقلی دے دَ ابراهیمﷺ نه دَپاره دَ رد دَشرك فعلی او تفصیلی بیان دَ مسائلودَ حج دے دَپاره دَ توحید فعلی په تعظیم کولودَحرماتِ الٰهیه اوتحلیل دَتحرماتِ غیراللّٰه اوتعظیم دَشعائر اللّٰه اوتحذیردے دَ نذردَغیراللّٰه اوبیان دَ هلاکت دَمشرك دے په تمثیل سره۔ په دے (۲۶) ایت کښ دلیل نقلی دے دَ ابراهیمﷺ نه دپاره دَ رد دَ شرك اوهرکله چه تیرشوی ایت کښ دَ الحاد فی الحرم نه منع اوکړه نودے ایاتونوکښ دَطاعة خاصه دَحرم ذکرکوی اوهرکله چه لوئے مقصد دَ بناء دَ بیت اللّٰه دَ شرك ختم کول دی نودَ دے وجے نه﴿اَنْ لَّا تُشْرِكْ﴾ ئے ورسره ذکرکړو او ایت کښ طعن دے په مشرکین مکه باندے چه هغوی دَخپل نیکه (ابراهیمﷺ) نه مخالفت کوی﴿وَطَهِّرْ بَيْتِيَ﴾ تطهیر دَبیت اللّٰه عام دے دَشرك اوکفراوبدعاتواونوروپلیتونه پاك ساتل، اومقصود په دے سره اعلان دَ توحید دے دَپاره دَ دے چه ځوك بیت اللّٰه په شرك سره پلیت نه کړی، هم داسے په سورة بقره (۱۲۵) کښ تیرشویدی هلته ئے عکوف هم ذکرکړے وؤځکه چه دَ طواف نه روستوعکوف بهترعبادت دے اودے سورة کښ عاکف ئے تیرشوی ایت کښ ذکرکړے دے نوپه دے ایت کښ ئے ذکرنه کړو﴿لِلطَّآئِفِيْنَ﴾ ابن کثیروئیلی دی چه طواف په ټولوعباداتوکښ ډیرخاص دے په بیت اللّٰه پورے نونشی کیدے په هیڅ حصه دَ زمکه کښ ماسوی دَکعبے نه۔

[۲۷] روستودَ اعلان دَتوحید نه اعلان دَحج دے۔ په دے ترتیب کښ اشاره ده چه حاجی باندے دَحج نه وړاندے دَشرك پریخودل ضروری دی اودارنګ اشاره ده چه حج داسے عبادت دے چه په هغے کښ دَتوحید عملی تعلیم دے ځکه په دے کښ سفرکول کوردَ اللّٰه تعالیٰ ته په نیت دَعبادت سره اوطواف کول دی اوخاروی دَ اللّٰه تعالیٰ په نوم باندے نذرکول اودَ هغه په نوم سره ذبح کول دی اودا ټول دَتوحید اعمال دی﴿رِجَالًا﴾ئے ځکه مخکښ راوړوچه پیاده حج کښ ثواب ډیردے لیکن راجح قول دا دے چه په سورلے سره غوره دے ځکه چه نبیﷺ په سورلے سره حج کړے دے نورجالاً دپاره دَنزدے خلقودے اوعلے کل ضامرٍدپاره دَلرے خلقودے﴿ضَامِرٍ﴾ هغه ځاروی دَځورلئی چه نری بدن والاوی چه سترې کیږی نه په رفتار کولو باندے۔ یا هغه دی چه دَ ډیرسفرکولوپه وجے سره تپ اولاغرشوی وی په دے کښ ئے دَ دریاب ذکرنه دے کړے ځکه دریاب دَ مکے سره متصل نه دے نوکه په دریاب کښ راشی نوبیا به هم په اوچه باندے مزل کوی تربیت اللّٰه پورے﴿فَجٍّ﴾ دَ غرونوپه مینځ کښ فراخه لارے ته وئیلے کیږی اوبنارد مکے ته هره لارداسے ده۔

اَيَّامٍ مَّعْلُوْمٰتٍ عَلٰى مَا رَزَقَهُمْ مِّنْۢ بَهِيْمَةِ الْاَنْعَامِ ۚ فَكُلُوْا مِنْهَا وَاَطْعِمُوا الْبَآئِسَ الْفَقِيْرَ ﴿۲۸﴾
ثُمَّ لْيَقْضُوْا تَفَثَهُمْ وَلْيُوْفُوْا نُذُوْرَهُمْ وَلْيَطَّوَّفُوْا بِالْبَيْتِ الْعَتِيْقِ ﴿۲۹﴾ ذٰلِكَ ۚ وَمَنْ يُّعَظِّمْ حُرُمٰتِ

ورځو معلومو کښ په هغه څه چه ورکړی دی دوی ته الله تعالیٰ دَ څارڅو نه پس خورئ دَ هغې نه او خوراك ورکوئ مصیبت وهلی محتاج ته (۲۸) بیا دے لرے کړی دوی خیری خپل او پوره دے کړی منښتے خپلے او طواف دے اوکړی دَ بیت (کور) آزاد (۲۹) دا (یادلرئے) اوچاچه تعظیم اوکړو دَ حرمتونو

[۲۸] په دے ایت کښ بعضِ مقاصد دَ حج ذکر کړیدی، مراد دَ منافع نه اخروی فائدے دی چه په اداء دَ مناسکودَ حج سره حاصلیری ثوابونه بخښنه دَ ګناهونودعاګانے اودَ هغې قبولیت وغیره ﴿وَيَذْكُرُوا﴾ داخاص حکمت دَحج دے یعنی ذبح په نوم دَ الله تعالیٰ سره خاص کول په خلاف دَ مشرکانونه چه نذراو ذبح دَغیرالله په نوم سره کوی نوپه حج کښ تربیت دَ توحید حاصلیری ﴿اَيَّامٍ مَّعْلُوْمٰتٍ﴾ د دے نه مراد ایام دَ قربانئ دی یوم النحراودوه ورځے ورپسے اوځلورمه ورځ کښ اختلاف دے ﴿فَكُلُوْا﴾ نه مراد دا دے چه دَ هغې نه ځان له خورل حرام مه ګڼرئے لکه چه مشرکانوحرام ګڼرلوخوراك کول دَ هغې نه سنت دَ نبی ﷺ دے۔ ﴿الْبَآئِسَ الْفَقِيْرَ﴾ سخت اوګے محتاج ﴿الْبَآئِسَ﴾ سره فقیرځکه ذکرکړوچه کله اوګے وی لیکن مالداروی خوراك نه کوی دَ څه عارض دَ وجے نه نوهغه لره دَ دے نه دِ نه ورکوی۔

[۲۹] هرکله چه سورة بقره کښ اعمال دَحج ئے تروقوف اورمی دَمنیٰ پورے ذکرکړی وؤنوپه دے سورة کښ دَهغې نه روستواعمال دَحج ذکرکوی یعنی په مِنیٰ کښ دِ ذبح اوکړی نوبیا دِ حلق اوکړی۔ ﴿ثُمَّ لْيَقْضُوْا تَفَثَهُمْ﴾ کښ دا مراد دے ځکه چه تفث ویخته اونوکونه دی دَهغې لرے کول واجب دی په ورځ دَنحرکښ، اوبیا دِ طواف فرض اوکړی ﴿وَلْيَطَّوَّفُوْا﴾ کښ طواف فرض مراد دے ﴿وَلْيُوْفُوْا نُذُوْرَهُمْ﴾ نور واجبات مراد دی که پخپله په ځان باندے نذر الٰهی منلے وی دَمال یا دَ حیوان دَ ذبح په باره کښ نودَ هغې وفاواجب ده اوکه دَ الله تعالیٰ طرف نه نور واجبات حج وی۔

فائده: وفا دلیل دے چه دَ نذرکړے شوی څیزنه به ځان له هیڅ نه خوری ځکه چه وفا پوره ورکولوته وائی اودا دلیل دے چه دَنذروفا واجب ده ﴿الْعَتِيْقِ﴾ په دے کښ ډیروجوه دی اول داچه عتیق په معنیٰ دَ زورډے اوحدیث صحیح کښ دَ دے تائیددے چه دا اول مسجد دے چه په زمکه کښ جوړ کړے شوے دے اوسورة العمران (۹۶) کښ هم داسے ذکرشویدی، دویم په معنیٰ دَ آزاد ساتلے شوی دَ لاسونودَ جابرانو ظالمانونه تر قرب قیامت پورے اوترمذی روایت کړے دے په سند حسن دَ عبد الله بن زبیر ﷺ نه چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه دے ته عتیق ځکه وئیلے کیږی چه نشی غالب کیدلے په دے باندے جبّار، او دَ دے تفصیل تفسیر قرطبی کښ موجود دے، دریم داچه آزاد دے دَملکیت دَخلقونه۔ څلورم داچه په دے کښ ګنهګارخلق دَګناهونونه ازادولے شی، پنځم داچه عتیق په معنیٰ دَکریم اوشریف دے۔

اللّٰهِ فَهُوَ خَيْرٌ لَّهٗ عِنْدَ رَبِّهٖ ؕ وَاُحِلَّتْ لَكُمُ الْاَنْعَامُ اِلَّا مَا يُتْلٰى عَلَيْكُمْ فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ
مِنَ الْاَوْثَانِ وَاجْتَنِبُوْا قَوْلَ الزُّوْرِ ﴿٣٠﴾ حُنَفَآءَ لِلّٰهِ غَيْرَ مُشْرِكِيْنَ بِهٖ ؕ وَمَنْ يُّشْرِكْ بِاللّٰهِ فَكَاَنَّمَا
خَرَّ مِنَ السَّمَآءِ فَتَخْطَفُهُ الطَّيْرُ اَوْ تَهْوِيْ بِهِ الرِّيْحُ فِيْ مَكَانٍ سَحِيْقٍ ﴿٣١﴾ ذٰلِكَ ۚ وَمَنْ يُّعَظِّمْ

دَ اللّٰه تعالیٰ نو دا غوره ده دهٔ لره په نیز دَ رب خپل او حلال کړے شویدی تاسو لره ځاروی مګر هغه چه لوستلے کیدیشی په تاسو باندے پس د ډه کوئے دَ پلیتئے نه چه بندګی دَ غیر اللّٰه ده او د ډه کوئ دَ دروغ وینا نه (۳۰) کلك شئے په اخلاص کولو اللّٰه تعالیٰ ته مه کیږئ شرك کؤونکی دَ هغه سره او چاچه شرك اوکړو دَ اللّٰه تعالیٰ سره نو ګویا چه دے را اوغورځیدلو دَ اسمان نه پس اوتختوی دهٔ لره مارغان یا بښکته او غورځوی دهٔ لره سیلئے په مکان لرے کښ (۳۱) دا یاد کړئ او چاچه تعظیم اوکړو

[۳۰] په دے ایت کښ دَ حج نورے فائدے ذکرکولے شی چه تعظیم دَمحرماتواللّٰهیودے اوبل حکم دَ محرّمات دَ غیراللّٰه دے په تحلیل دَ هغے سره اوبل اجتناب دَ نذردَغیراللّٰه نه اوبل اجتناب دے دَشرکی الفاظ اودَ دروغ وئیلونه یعنی په حج سره دَ دے امورو عمل اومشق ایزده کولے شی نوکوم الحاج چه دَ دے امورو پابندی اونکړی معلومیږی چه هغه حج نه دے کړے ﴿حُرُمٰتِ اللّٰهِ﴾ نه مراد هغه ځیزونه دی چه اللّٰه تعالیٰ په احرام اوپه حرم مکه کښ حرام کړی دی، مثلاً بښکارکول دَ حرم بوټی پریکول ماسِوا دَسرګړی نه۔ اوتعظیم دَ هغے نه مراد دَ هغه کارونونه ځان ساتل دی کوم چه اللّٰه تعالیٰ منع کړی دی ﴿وَاُحِلَّتْ لَكُمُ الْاَنْعَامُ﴾ په دے کښ رد دے په تحریم دَ غیراللّٰه باندے چه مشرکانودَ اللّٰه تعالیٰ دَ تحریماتوپه مشابهت سره دَ ځان نه څه ځاروی په ځان باندے حرام کړی وؤاودَ هغے تفصیل په سورة مائده کښ تیرشویدے ﴿اِلَّا مَا يُتْلٰى﴾ نه مرادهغه ځاروی دی چه اللّٰه تعالیٰ په عام اوقاتوکښ حرام کړی وی لکه مرداره خنزیر وغیره۔ ﴿فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْاَوْثَانِ﴾ وثن په معنیٰ دَهرمعبود من دُونِ اللّٰه دے که بت وی اوکه صلیب دَ نصاریٰ وی (لکه چه حدیث دَ عدیﷺ بن حاتم کښ صلیب ته ئے وثن وئیلے دے) اوکه قبروی ځکه چه حدیث صحیح کښ وارد دی (اَللّٰهُمَّ لاَ تَجْعَلْ قَبْرِیْ وَثَنًا یُعْبَدُ) یعنی دَکوم قبرچه عبادت کیدلے شی (سجدے نذرونه طوافونه وغیره) نوهغے ته هم وثن وئیلے کیږی لکه چه البلاغ المبین کښ ذکر دی اومراد دَ من الاوثان نه عبادت کول دَ اوثانودی مثلاًکوم ځیزچه دَ وثن په نامه نذرکړلے شی نوهغه پلید دی، اوتفسیردَ ابن عطیه کښ داسے لیکلی دی چه دا اشاره هغه ذبحوکولو ته ده چه دَپاره دَ اوثانووی ﴿مِنَ الْاَوْثَانِ﴾ کښ مِن بیانی دے نومعنیٰ دا رجس عبادت دَ اوثانودے یامِن ابتدا دپاره دے نومعنیٰ عامه شوه یعنی هرهغه پلیتئے نه ځان اوساتئے چه دَعبادت دَ اوثانو(یعنی دَشرك) نه پیداکیږی ﴿قَوْلَ الزُّوْرِ﴾ هرهغه ویناته وئیلے کیدیشی چه دَ حق نه اوړیدلے وی چه هغه دَشرك کلمات دی لکه خبره دَتحریم دَغیراللّٰه یاخبره دَ نذردَغیراللّٰه اودارنګ شهادت دَ دروغواودروغ وئیل، دا ټول دَعامومسلمانانواوخاص کړیه حاجیانو باندے ډیرضروری دی۔

[۳۱] ﴿حُنَفَآءَ﴾ کښ اشاره ده چه اجتناب دَ اوثان او قول زور نه په سبب دَ حنیفیت سره کول ضروری دی نه دَ وجے دَ خپل خواهش یا دنیوی مفاداتونه (حنیف) پریخودونکے دَ دین باطل اوکلك په

شَعَآىِٕرَ اللّٰهِ فَاِنَّهَا مِنْ تَقْوَى الْقُلُوْبِ ﴿۳۲﴾ لَكُمْ فِيْهَا مَنَافِعُ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى ثُمَّ مَحِلُّهَآ اِلَى
الْبَيْتِ الْعَتِيْقِ ﴿۳۳﴾ وَلِكُلِّ اُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنْسَكًا لِّيَذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ عَلٰى مَا رَزَقَهُمْ مِّنْۢ بَهِيْمَةِ ع

دَ خاص نخو چه اللّٰه تعالیٰ مقرر کړی دی نو یقیناً دا تعظیم دَ اخلاص دَ زړونو دے (۳۲) تاسو لره په هغے کښ فائِدے دی ترنیټے مقرر پورے بیا انتها دَ دے (فائِدو) دَ بیت اللّٰه ازاد سره ده (۳۳) او دپاره دَ هر امت مقررکړے ده مونږ طریقه دَ قربانئ دے دپاره چه یاد کړی نوم دَ اللّٰه تعالیٰ په هغه باندے چه اللّٰه تعالیٰ ورکړیدی دوی ته دَ چارپایانو

دین حق باندے ﴿وَمَنْ يُّشْرِكْ﴾ دا مثال دَ ذلت او دَ هلاکت دَ مشرك دے چه دَ هغه دَ نجات هیڅ طریقه نیشته لکه څرنګ چه یو انسان دَ اسمان نه را اوغورځیږی او مارغان ئے پوټی پوټی کړی یا دَ بیابان په یوډونګے کنده کښ اوغورځیږی ، او تفصیل دَ مثال ابن قیم رحمة اللّٰه داسے لیکلے دے چه توحید په مثال دَ اسمان دے په هغے کښ نمر سپوږمئے ستوری شته نو چاچه شرك اوکړو نو دَ توحید نه محروم شو او دَ قرآن الکریم او سنت رسول اللّٰهﷺ اوطریقے دَ صحابه کرامونه ښکته را اوغورځیدو او ښکته غورځیدل اشاره ده ډیر ذلت ته او مشرکان ملایان او پیریان په مثال دَ مارغانو دی یعنی دَ هغوی په لاسونو کښ پریوتونو هغوی دَ دهٗ ایمان، حیاء غیرت اومال پوټی پوټی کړو یا که دَ دوی په لاس کښ رانشی نوپه دهریت کښ اخته شی چه دَ اللّٰه تعالیٰ اودَ دین نه بالکل انکاری شی او دواړو حالتونو کښ په دنیا او اخرت کښ ذلیل شی۔

[۳۲] ﴿شَعَآئِرَاللّٰهِ﴾ هغه څیزونه دی چه خاص وی په دین دَ اللّٰه تعالیٰ پورے اوهغه علامات دی دَ دین دَ اللّٰه تعالیٰ کعبة اللّٰه، صفاومروه، منیٰ، عرفات، مزدلفه شعائر اللّٰه دی، دارنګ هدایا دَحرم اوقلائِد اومساجد اوعباداتِ شرعیه ظاهره شعائراللّٰه دی او دلته مراد ترینه هغه څاروی دی چه حرم ته بوتللے کیږی دپاره دَ هَدْی اوذبح کولو، دَ هغے تعظیم دَ هغے آداب شرعیه ادا کول دی اودَ هغے دَهتك اوبے عزتئ نه ځان بچ کول دی اودَ هغے خائسته کول اوخوراك سکاك ورکول دی ﴿تَقْوَى الْقُلُوْبِ﴾داحقیقی تقویٰ ده ځکه چه حدیث صحیح کښ وارد دی چه رسول اللّٰهﷺ اوفرمائیل تقویٰ دلته کښ ده او اشاره ئے اوکړله زړه ته یاتقویٰ په معنیٰ دَ اخلاص ده ځکه چه دَ هراندام تقویٰ دَ هغے مناسب وی۔

[۳۳] که مراد دَ شعائرنه عام مواقف دَحج وی نوپه هغے کښ منافع دَ هغے وقوف اوعبادات اداکول دی لکه وقوف دَ منیٰ اودَعرفے اودَمزدلفے او﴿اَجَلٍ مُّسَمًّى﴾ نه مراد اخری وخت شرعی دَوقوف دے په هر موقف کښ چه هغه په حدیث صحیح سره ثابت دی او﴿مَحِلُّهَآ﴾ نه مراد منتهیٰ دَ دغے اعمالوطواف دَ بیت اللّٰه دے چه هغه طواف وداع ته اشاره ده اودا معنیٰ امام مالك موطاکښ ذکرکړے ده اوکه مراد دَ شَعَائِرُ اللّٰه نه صرف څاروی دَ هدیے وی نودَ اَجَلٍ مُّسَمًّى دوه معنے دی اوله معنیٰ روانَول په نیت دَهدیی یعنی دَ دغه روانولونه رواندے په هغه څاروؤ باندے سورلی کول دَ هغے نه پئی لښل دَ هغے نه وړے، ویخته پښم پریکول جائز دی اودویمه معنیٰ دَ اَجَلٍ مُّسَمًّى نه یوم النحرده یعنی دَ دغه څاروؤنه دَحاجت اودَ ضرورت په وخت کښ فائده دَسورلئے وغیره جائزده تریوم النحرپورے اومَحِلُّهَآ نه مراد ځائے دَحلالے اوذبحه کولودے اوبیت العتیق نه مراد حرم دے اوپه هغے کښ خاص مِنیٰ کښ ذبح کول افضل دی۔

الۡاَنۡعَامِ ؕ فَاِلٰهُكُمۡ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ فَلَهٗۤ اَسۡلِمُوۡا ؕ وَبَشِّرِ الۡمُخۡبِتِيۡنَ ﴿۳۴﴾ الَّذِيۡنَ اِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ
وَجِلَتۡ قُلُوۡبُهُمۡ وَالصّٰبِرِيۡنَ عَلٰى مَاۤ اَصَابَهُمۡ وَالۡمُقِيۡمِى الصَّلٰوةِ ۙ وَمِمَّا رَزَقۡنٰهُمۡ يُنۡفِقُوۡنَ ﴿۳۵﴾
وَالۡبُدۡنَ جَعَلۡنٰهَا لَكُمۡ مِّنۡ شَعَآئِرِ اللّٰهِ لَكُمۡ فِيۡهَا خَيۡرٌ ۖ فَاذۡكُرُوا اسۡمَ اللّٰهِ عَلَيۡهَا صَوَآفَّ ۚ

دَ ځارؤونه ځکه چه حق دار دَ بندګئ ستاسو یو ذات دے پس خاص هغه ته اخلاص کوئ او زیرے ورکړه ځان کوز ګنړنکوته (۳٤) هغه خلق چه هرکله یاد کړے شی اللّٰه تعالیٰ اویریګی زړونه دَ دوی او صبرکؤونکی وی په هغه مصیبت چه دوی ته رسیدلے وی او پابندی کؤونکی دَ مونځ دی او دَهغه نه چه مونږ دوی ته ورکړیدی خرچ کوی (۳۵) اوغټ ځاروی (اوښان) ګرځولی دی مونږ تاسو لره دَ خاص نخو دَ اللّٰه تعالیٰ نه تاسو لره په هغے کښ فائدے دی پس یادوئ نوم دَ اللّٰه تعالیٰ په هغے باندے په داسے حال کښ چه ولاړیئ

[۳٤] روستودَ ذکرکولودَ احکامودَ ذبح دَ هدایانه ترغیب دے دغه حکم ته چه داحکم په ټولو امتونو کښ دے، منسك نه مراد عبادت دَ ذبح دَ قربانئ اودَهدیی دے بیا دَ دے حکم فائده بیانوی ﴿لِيَذۡكُرُوا﴾ سره یعنی چه تمام انسانان عادت شی په ذکردَاسم دَاللّٰه تعالیٰ په ځاروؤباندے چه چیرته دَغیراللّٰه په نوم ئے نذریا ذبح نه کړی، بیا دَ دے علت ئے ذکرکړو ﴿فَاِلٰهُكُمۡ﴾ یعنی نذراوذبح دَ اللّٰه تعالیٰ په نوم پورے ځکه خاص ده چه هغه یواځے حقدارد بندګئ دے شریك ئے نیشته بیاعام امردے امت ته په کلکوالی سره په توحید باندے په فله اسلمواسره بیا بشارت دے ﴿الۡمُخۡبِتِيۡنَ﴾ نه مراد تواضع کوؤنکی اوغاړه ښکته لرونکی حکم دَ اللّٰه تعالیٰ ته اوعمر بن اوس نه ابن عطیه اوقرطبی نقل کړی دی مخبتون هغه خلق دی چه ظلم نه کوی اوکه چرے په دوی باندے ظلم اوکړے شی نوانتقام (بدله) نه اخلی اوبَشِّرۡ ئے مطلق ذکرکړو دَپاره دَعظمت دَبشارت۔

فائده: هرکله چه ټول مناسك دَحج په تواضع اوعاجزئ سره اداکیږی یعنی دوه جامے دَاحرام بربنډ سر، په ښپوکښ ادنیٰ پیزارپه زمکه باندے خوب کول وغیره داټوله تواضع ده نودَ دے وجے نه په دے سورة کښ مخبتین ئے ذکرکړو۔

[۳۵] دَ دے دَ بعضے صفاتو تفصیل په ابتداء دَسورة انفال کښ بیان شویدے په (۲) کښ۔ هرکله چه دَ قلب احوال زرزر بدلیږی نودَ دے وجے نه اول صفت ئے په صیغه دَ فعل مشروط سره ذکرکړواوصبراواقامة الصلوة چه هر وخت مطلوب دی نو هغه ئے په اسم سره ذکرکړل اوانفاق هم کله کله وی نوهغه ئے په صیغه دَفعل سره ذکرکړو۔ اودَ دے ایت په تفسیرکښ امام قرطبی سخت ردکړے دے په مبتدعین پیرانوذاکرینوچه په وخت دَ ذکردَ اللّٰه تعالیٰ کښ په هغوی جذبه راځی اوټوپونه او چغے وهی اودے ته وجدوائی دا ټول دَ صحابه کرامودَصفاتونه مخالفت دے بلکه دایوقسم لیونتوب دے اودا شیطانی اعمال دی، ابن جوزیؒ تلبیس ابلیس کښ دَحسن بصری نه نقل کړیدی چه دَ داسے خلقوسره زمونږشرط دا دے چه دوی دِ دَکوهی په غاړه باندے یاپه بلئے دَکوتے باندے کښینی اوبیا دِ ذکرالٰهی اوکړی اوپه دوی دے جذبه اووجد راشی۔

فَاِذَا وَجَبَتْ جُنُوْبُهَا فَكُلُوْا مِنْهَا وَاَطْعِمُوا الْقَانِعَ وَالْمُعْتَرَّ ؕ كَذٰلِكَ سَخَّرْنٰهَا لَكُمْ
لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۳۶﴾ لَنْ يَّنَالَ اللّٰهَ لُحُوْمُهَا وَلَا دِمَآؤُهَا وَلٰكِنْ يَّنَالُهُ التَّقْوٰى مِنْكُمْ ؕ
كَذٰلِكَ سَخَّرَهَا لَكُمْ لِتُكَبِّرُوا اللّٰهَ عَلٰى مَا هَدٰىكُمْ ؕ وَبَشِّرِ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۳۷﴾ اِنَّ اللّٰهَ يُدٰفِعُ

پس هر کله چه را اوغورځیږی اړخونه دَ هغوی پس خورئے دَ هغے نه او خوراك ورکوئے کګداره کؤونکی ته او حرصناك ته د غسے تابع کړیدی مونږ دا ځاروی ستاسو دَ فائِدے له دے دپاره چه شکر اوکړئ (۳۶) هیڅرے نه رسی اللّٰه تعالیٰ ته (دَقبولیت د پاره) غوښے دَ دوی اونه وینے دَ دوی او لیکن رسی هغه ته (قبولیت سره) اخلاص ستاسونه دغسے تابع ګرځولی دی اللّٰه تعالیٰ دا ځاروی ستاسو فائِدے لره دے دپاره چه تکبیر اُوائے په هغے باندے په هغه طریقے سره چه خودلے ده اللّٰه تعالیٰ تاسوته اوزیږے ورکړه خائسته عمل کؤونکو ته (۳۷) یقیناً اللّٰه تعالیٰ اړوی

[۳۶] هرکله چه وړاندے ذکرَدَ عامو شعائر اللّٰه ئے اوکړو بیا ذبح دَ هدیی اوقربانئی ته ئے ترغیب بیان کړواودَ هغے شرط دَ ذبح ئے بیان کړوییا دَ دے احکامودَ پابندئ کؤنکو صفات ئے بیان کړل، نواوس په دے ایت کښ دَبعضے شعائراللّٰه (چه هغه اوښان دَ هدي دی) دَ هغوی احکام بیانوی۔ اول حکم دا دَ شعائراللّٰه نه دے نوتعظیم ئے ضروری دے دویم حکم دَ دے دَ ذبح کولوپه طریقه شرعیه سره خیراوثوابونه دی، دریم حکم ذکرَدَبسم اللّٰه دے په وخت دَ نحرکولوپه ولاړه باندے ځکه چه نحرَ اوښانو په حالت دَولاړوالی کښ سنت دے ځلورم حکم کله چه مړه شی نوپه زمکه راپریوځی نودَهغے نه خوړل پخپله اومحتاجانوته ورکول پخپله دَ خوړلوامردپاره دَ مخالفت دَ مشرکانو دے چه هغوی دَ دے هدي نه خوړل جائزنه ګنړل ﴿اَلْقَانِعَ﴾ امام مالك نه قرطبی نقل کړیدی چه قانع فقیردے (ځکه چه په لږه باندے قناعت کوی) اومعتَرهغه دے ځان پیش پیش کوی اوملاقات کولوپه بهانه سوال کوی که بیکاره کوی اوکه چپ کوی ﴿تَشْكُرُوْنَ﴾ نه مراد په دے ځائے کښ عمل کول دَ ذبح اودَ نحردی دَحکم شرعی مطابق لکه چه مخکے ذکرشول۔

[۳۷] په دے ایت کښ ذکرَدَ اخلاص دے چه هغه شرط دَ قبولیت دے په هرعمل کښ اوپه دے کښ اشاره ده چه کومه هدي اوقربانی دَ اخلاص اواتباع سنت نه خالی وی نوهغه صرف غوښه او وینه ده۔ ﴿كَذٰلِكَ سَخَّرَهَا﴾ دا ذکرَدَ لوئے انعام دے چه دا قدرت دَ اللّٰه تعالیٰ دے چه دَ کمزوری انسان دَپاره ئے لوئے قوی حیوان تابع ګرځولے دے مخکښ ایت کښ هم تسخیربیان شو دپاره دَ دے چه بسم اللّٰه وربانده ذکرکړے شی اوپه دے ایت کښ ئے هم ذکرکړلودَپاره دَ دے چه اللّٰه اکبرهم دَ بسم اللّٰه سره یوځائے ذکرکړے شی اومخکښ ایت کښ جعلناها متکلم ذکر وؤنوسخرٹها ئے هم په صیغه دَمتکلم ذکرکړیدے اوپه دے ایت کښ لن ینال اللّٰه په صیغه غائب سره ذکردے نوسخرها هم په صیغه دَغائب سره ذکر کړو ﴿الْمُحْسِنِيْنَ﴾ نه هغه مراد دے چه تیرشوی احکام په احسن طریقه (یعنی په شرعی طریقے) سره اداکوی دَبدعاتوخلط ورسره نه کوی اواخلاص کوؤنکی دی۔

عَنِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ خَوَّانٍ كَفُوْرٍ ﴿٣٨﴾ اُذِنَ لِلَّذِيْنَ يُقٰتَلُوْنَ بِاَنَّهُمْ ظُلِمُوْا ؕ
وَاِنَّ اللّٰهَ عَلٰى نَصْرِهِمْ لَقَدِيْرُ ۙ﴿٣٩﴾ الَّذِيْنَ اُخْرِجُوْا مِنْ دِيَارِهِمْ بِغَيْرِ حَقٍّ اِلَّاۤ اَنْ يَّقُوْلُوْا
رَبُّنَا اللّٰهُ ؕ وَلَوْلَا دَفْعُ اللّٰهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لَّهُدِّمَتْ صَوَامِعُ وَبِيَعٌ وَّصَلَوٰتٌ
وَّمَسٰجِدُ يُذْكَرُ فِيْهَا اسْمُ اللّٰهِ كَثِيْرًا ؕ وَلَيَنْصُرَنَّ اللّٰهُ مَنْ يَّنْصُرُهٗ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَقَوِيٌّ

دَ جنګ دَ مؤمنانونه (کافرانو لره) یقیناً اللّٰه تعالیٰ مینه نه کوی دَ هرخیانت ګر ناشکره سره (۳۸) اعلان کړے شوے هغه کسانوته چه هغوی سره جنګ کیدلے شی (دَ جنګ کولو) په دے سبب چه په دے باندے ظلم کړے شوے دے او یقیناً اللّٰه تعالیٰ دَ دوی په مدد کولو باندے خامخا قدرت لری (۳۹) دا هغه کسان دی چه ویستلے شوی دی دَ کورونو خپلونه بغیر دَ جرم شرعی نه ما سیوا دَ دینه چه دوی وائی رب زمونږ اللّٰه تعالیٰ دے اوکه نه وے اړول دَ اللّٰه تعالیٰ خلقو لره بعضولره په بعضو سره خامخا نړولے شوے به وے ګرجے دَ راهبانو او عبادت خانے دَ نصاریٰ او عبادت ګاهونه دَ یهودیانو او جماعتونه دَ مسلمانانو چه یادولے شی په هغوی کښ نوم دَ اللّٰه تعالیٰ ډیر او خامخا مدد کوی اللّٰه تعالیٰ دَ هغه چا سره چه مدد کوی دَ دین دَ هغه سره یقینا اللّٰه تعالیٰ قوت والا دے

[۳۸] دَ دے ایت نه تر(۵۸) پورے دریم باب دے په دے کښ ترغیب دے قتال ته سره دَ ذکر کولودَعلتونودَ هغے نه اوصفتونه دَ مجاهدینودی بیا تسلی ده سره دَ تخویف دنیوی نه په ذکردَهلاکت دَ اقوامِ مکذبو، بیا اتم زجردے په زرعذاب غوختلوسره اوتخویف دنیوی دے بیاائبات دَ رسالت اوبشارت اوتخویف دے بیاعداوت دَشیطان ئے ذکرکړے دے چه دوی شبهات اچوی اواللّٰه تعالیٰ ئے زائل کوی اوحکمت دَ القاء شبهات اوحکمت دَ ازالے ئے ذکرکړے دے بیا تخویف اوبشارت دے۔ په دے (۳۸) کښ تسلی ده مؤمنانوته یعنی که دوی سفردَ حج یا دَجهادکوی نواللّٰه تعالیٰ به دَ دوی دَکورونواودَ اهل وعیال حفاظت کوی اودَ دوی دَ نفسونوحفاظت به هم کوی ځکه چه دوی دَ اللّٰه تعالیٰ دوستان دی اودَ دوی دشمنان چه خوّان کفوردی هغه دَ اللّٰه تعالیٰ هم دشمنان دی نوظاهره خبره ده چه اللّٰه به دَخپلودوستانو دَ دشمنانونه حفاظت اومدافعت کوی ﴿خَوَّانٍ﴾ ډیرخیانت ګرهغه دے چه دَ اللّٰه تعالیٰ دَ دوستانواهل و عیال اومال کښ خیانت کوی۔ او﴿كَفُوْرٍ﴾ ځکه دے چه اللّٰه تعالیٰ په دهٔ باندے انعامات کړیدی اودے دَ هغے ناشکری کوی۔

[۳۹] په دے ایت کښ ئے دَ مدافعت یوه طریقه اوخودله یعنی اللّٰه تعالیٰ به ستاسو حفاظت کوی لیکن تاسوهم دَ دین دَ اللّٰه تعالیٰ اودَ خپلوځانونوحفاظت کوئے په قتال کولو سره او تفسیر قرطبی کښ لیکلی دی چه دا اول ایت دے چه نازل شویدے په باره دَ قتال کښ لیکن په دے ایت کښ صرف اُذِنَ یعنی اباحت دَ قتال دے او فرضیت ئے په ﴿قَاتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ﴾ سره دَ دے نه روستوشویدے اوپه دیکښ درے علتونه ذکرکړے شول اول ﴿يُقَاتَلُوْنَ﴾ دویم ﴿بِاَنَّهُمْ ظُلِمُوْا﴾ دریم ﴿اِنَّ اللّٰهَ﴾۔

فائده: مفسرقرطبی لیکلی دی چه اباحت حکم شرعی دے نوهغے له دلیل شرعی پکاردے دارنګ مسلم الثبوت کښ هم دی۔

عَزِيْزٌ ﴿۴۰﴾ اَلَّذِيْنَ اِنْ مَّكَّنّٰهُمْ فِي الْاَرْضِ اَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتَوُا الزَّكٰوةَ وَاَمَرُوْا بِالْمَعْرُوْفِ
وَنَهَوْا عَنِ الْمُنْكَرِ ؕ وَلِلّٰهِ عَاقِبَةُ الْاُمُوْرِ ﴿۴۱﴾ وَاِنْ يُّكَذِّبُوْكَ فَقَدْ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ
نُوْحٍ وَّعَادٌ وَّثَمُوْدُ ﴿۴۲﴾ وَقَوْمُ اِبْرٰهِيْمَ وَقَوْمُ لُوْطٍ ﴿۴۳﴾ وَّاَصْحٰبُ مَدْيَنَ ۚ وَكُذِّبَ

زوراور دے (۴۰) داسے خلق دی که چرے طاقت ورکړو مونږ دوی ته په زمکه کښ پابندی به کوی دَ مونځ او ورکوی به زکوٰة او بیان به کوی دَ نیکئے اومنع به کوی دَ بدئ نه او خاص اللّٰه تعالیٰ لره دے انجام دَ ټولو کارونو (۴۱) اوکه دوی تاته دروغژن وائی نو یقیناً دَ دروغونسبت کړے ؤو مخکښ دَ دوی نه (خپلو پیغمبرانوته) قوم دَ نوح(علیه السلام) اوعادیانواوثمودیانو(۴۲) او قوم دَ ابراهیم(علیه السلام) او قوم دَ لوط(علیه السلام) (۴۳) او اوسیدونکو دَ مدین او نسبت دَ دروغو کړے شویؤو

[۴۰] دا بیان دَ مظلومیت دَ هغوی دے اوبل علت دے دپاره دَ اذن دَ قتال کولواودارنګ داعلت دے دَ نصرتِ الٰهی دَ هغوی سره اودا ایت دلیل دے چه مؤحدینوسره دشمنی دَ وجے دَتوحید نه ده لکه چه په سورة اعراف (۱۲۶) اوسورة حٰمٓ مؤمن (۲۸) اوسورة بروج (۸) کښ دی ﴿وَلَوْلَا دَفْعُ اللّٰهِ النَّاسَ﴾ دابل علت دَ اذن دَ قتال دے اودَ نصرت دے یعنی قتال کول او نصرت دَ اللّٰه تعالیٰ دَمجاهدینوسره دَپاره دَ حفاظت دَ مرکزونودَ توحید دی، اوتفسیر قرطبي کښ ذکردی چه ایت په اعتبارد لفظ سره عام دے نورومعانیوته هم شامل دے یعنی که نوے دفع دَ اللّٰه تعالیٰ ظلم دَظالمانو په حاکمانوعادلانو سره اوکه نه وے دفع کول دَهغه چاچه مساجدوته نه ورځی په اهل مساجدو سره، اوکه نوے دفع کول دَعذاب الٰهی په دُعاګانودَصالحینو سره۔ اودارنګ که نوے دفع کول دَ شرك اوکفراوبدعاتواوفسق وفجوریه دعوت اوتبلیغ دَ اهل حق سره ﴿لَهُدِّمَتْ﴾ هدم ظاهری نړیدل دَ ابادئ دی اوهدم معنوی خالی کیدل دی دَعباداتودَ اللّٰه تعالیٰ نه په طریقه دَ توحید اوسنت سره دواړه معنے مراد دی اودا مذکور عبادت خانے دَ اهل شرائعودی چه هغوی دَتحریف دَ دین نه مخکښ په هغے کښ شرعی عبادتونه کول ځکه چه په دغه ټولو دینونوکښ مخکښ دَ تحریف نه توحید وؤ ﴿كَثِيْرًا﴾ دَ ډیرنه مراد هغه ذکردے چه په شرع کښ ثابت وی اګرچه لږوی اوکوم ذکرکه غیرشرعی وی نوکه ډیروی لیکن هغه لږاوے اعتباره دے ﴿مَنْ يَّنْصُرُهٗ﴾ په دے کښ اشاره ده چه نصرت دَ دین اودَ رسول دَ اللّٰه تعالیٰ دا نصرت دَ اللّٰه تعالیٰ دے یعنی دَ اللّٰه تعالیٰ په دِله اوجماعت کښ شمولیت دے اګر چه اللّٰه تعالیٰ نصرت ته محتاج نه دے۔

[۴۱] دا صفت دَمجاهدینو دے اودَ ضحاكؒ نه روایت دے چه داشرط اللّٰه تعالیٰ لازم کړے په هغه چاباندے چه بادشاهي ئے ورله ورکړے وی، اودارنګ دا شرط دے دَ دوام دَ نصرت الٰهیه دَپاره اودَ اقامة الصلوٰة اوایتاء الزکوٰة نه مرادعام جاری کول دَ دے احکامو شرعیودی په ملك کښ ﴿وَلِلّٰهِ عَاقِبَةُ الْاُمُوْرِ﴾ اشاره ده چه همیشه والے دَتمکین (دَ بادشاهئ) په اختیارد اللّٰه تعالیٰ کښ دے لکه چه ابتدا هم دَ هغه په اختیارکښ ده۔

[۴۲] په دے کښ تسلی ده رسول اللّٰهﷺ اوتابعدارانودَهغه ته یعنی دَ دے سورة په تیرشوی احکامو او مواعیدودَ اللّٰه تعالیٰ کښ که دوی ستا تکذیب کوی نواللّٰه تعالیٰ به دوی لره عذاب ورکړی لکه چه تیر اقوامِ مکذّبه ته ئے عذابونه ورکړی وؤاو اصحاب مدین ته قوم شعیب ئے اونه وئیل ځکه چه دَ هغه بل قوم

مُوْسٰى فَاَمْلَيْتُ لِلْكٰفِرِيْنَ ثُمَّ اَخَذْتُهُمْ ۚ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيْرِ ﴿٤٤﴾ فَكَاَيِّنْ مِّنْ قَرْيَةٍ
اَهْلَكْنٰهَا وَهِيَ ظَالِمَةٌ فَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلٰى عُرُوْشِهَا ز وَبِئْرٍ مُّعَطَّلَةٍ وَّ قَصْرٍ مَّشِيْدٍ ﴿٤٥﴾
اَفَلَمْ يَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ فَتَكُوْنَ لَهُمْ قُلُوْبٌ يَّعْقِلُوْنَ بِهَآ اَوْ اٰذَانٌ يَّسْمَعُوْنَ بِهَا ۚ فَاِنَّهَا
لَا تَعْمَى الْاَبْصَارُ وَلٰكِنْ تَعْمَى الْقُلُوْبُ الَّتِيْ فِي الصُّدُوْرِ ﴿٤٦﴾ وَيَسْتَعْجِلُوْنَكَ بِالْعَذَابِ وَلَنْ

موسیٰ(علیه السلام) ته پس مهلت ئے ورکړو کافرانو ته بیا اونیول ما هغوی لره پس څرنګ شو عذاب ځما هغوی لره (٤٤) پس ډیر دَ کلونه هلاك کړیدی مونږ هغه اوحال داچه هغوی ظلم کړونکی ؤو پس هغه پربوتلی دی په چتونو خپلو باندے او ډیر کوهیان شاړ او مانړئے پخے (شاړے دی)(٤٥) ایا پس دوی نه ګرځی په ملك کښ پس چه پیداشی دوی لره داسے زړونه چه پوهیږی په هغے سره یاغوګونه چه اوریدل کوی په هغے سره پس یقیناً نه ړندیږی سترګے اولیکن ړندیږی هغه زړونه چه په سینو کښ دی(٤٦) او په تادئے سره دوی غواړی ستانه عذاب اوهیڅ چرے

هم وؤاصحاب الایکه لیکن دَ هغوی هلاك عربو کښ زیات مشهورنه وؤ ﴿وَكَذَّبَ مُوْسٰى﴾ قوم دَموسیٰ ئے ځکه اونه وئیل چه قوم دَ هغه بنواسرائیل وؤ هغوی داسے تکذیب نه وؤ کړے چه په ټولو عذاب راغلے وی۔

[٤٤،٤٣] داپه ترتیب سره ذکرَ اقوام مکذبودے په دے ترتیب سره په سورة هود کښ ذکرشویدے هاں تکذیب دَ قوم ابراهیم(علیه السلام) په سورة انعام اوسورة انبیاء کښ ذکر شویدے ﴿نَكِيْرِ﴾ انکاراوبدلولوته وئیلے کیږی دلته مراد عذاب دے ځکه چه په عذاب سره نعمتونه بدل شی۔

[٤٥] داهم تخویف دنیوی دے اوپه دیکښ علت دَ عذاب ذکرشویدے چه هغه ظلم دے ﴿خَاوِيَةٌ عَلٰى عُرُوْشِهَا﴾ هغه مکانات دی چه اول ئے چتونه راپریوتل بیا دَ چتونودپاسه دیوالونه را اوغورځیدل بیا څه موده روستوډیرکئے جوړے شوے ﴿بِئْرٍ مُّعَطَّلَةٍ﴾ دَ هلاك شوی قومونوپه کورونواوکلوکښ کوهیان هم شاړ پاتے شویدی۔ یا مراد دَ دے نه هغه کوهے دے چه حنظله بن صفوان(علیه السلام) په زمانه کښ اوچ شویوؤ دَ هغے واقعه په تفسیر قرطبی وغیره کښ ذکرشویده ﴿قَصْرٍ مَّشِيْدٍ﴾ په دغه هلاك قومونو کښ بنګلے والونه بنګلے شاړے پاتے شوے۔ یاترینه مراد مانړئے اوبنګلے دَ ثمودیانو دی۔

[٤٦] پس دَ ذکرَ عذاب دَ قومونوتیرشوؤنه التفات دے موجوده خلقوته چه سیل اوکړی دَ دے مکاناتو(کنډراتو) اوعبرت ترینه حاصل کړی ﴿يَعْقِلُوْنَ بِهَآ﴾ اشاره ده چه دَعقل محل قلب دے اودے نه معلومه شوه چه دَسفرپه تکالیفوسره تجربه او عقل کښ ترقی راځی، اودَحق دَ اوریدلوصفت پیدا کیږی ﴿فَاِنَّهَا لَا تَعْمَى الْاَبْصَارُ﴾ هرکله چه په سفرکولوسره په نظرَ سترګو کښ ترقی نه پیداکیږی نودَکلام طرزئے بدل کړو۔ ابن عطیه فرمائی چه په دے کښ مبالغه ده یعنی ړوندوالے (کامل) دَ سترګو ړوندوالے نه دے بلکه دَ زړه ړوندوالے دے، دا مرادنه دے چه سترګے دَهیڅانه ړندیږی ځکه چه دا دَواقعے نه خلاف ده مطلب داشو چه دوی اګرچه ګرځی اوپه سترګوباندے دغه کنډراتوته ګوری لیکن عبرت نه اخلی ځکه چه زړونه ئے ړانده دی۔

يُّخْلِفَ اللّٰهُ وَعْدَهٗ ؕ وَاِنَّ يَوْمًا عِنْدَ رَبِّكَ كَاَلْفِ سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّوْنَ ﴿٤٧﴾ وَ كَاَيِّنْ مِّنْ
قَرْيَةٍ اَمْلَيْتُ لَهَا وَهِيَ ظَالِمَةٌ ثُمَّ اَخَذْتُهَا ۚ وَ اِلَيَّ الْمَصِيْرُ ﴿٤٨﴾ قُلْ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اِنَّمَاۤ
اَنَا لَكُمْ نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿٤٩﴾ فَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّ رِزْقٌ
كَرِيْمٌ ﴿٥٠﴾ وَ الَّذِيْنَ سَعَوْ فِيْۤ اٰيٰتِنَا مُعٰجِزِيْنَ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَحِيْمِ ﴿٥١﴾ وَمَاۤ اَرْسَلْنَا مِنْ

خلاف نکوی اللّٰه تعالیٰ دَ وعدے خپلے نه او یقیناً یو ورځ په نیز دَ رب ستا پشان دَ زرو کلونوده دَ هغے نه چه تاسوئے شمار کوئے (٤٧) او ډیر کلی دی مهلت ورکړے دے ما هغوی ته اوحال داچه ظلم کړونکی دی بیا اونیول ما هغوی لره او خاص زما طرف ته راګرځیدل دی (٤٨) ته اُوایه اے خلقو یقیناً ځه تاسو لره ویره درکړونکے ښکاره یم (٤٩) پس هغه کسان چه ایمان ئے راوړے او عمل ئے کړیدے په تابعداریٔ دَ سنت سره دوی دپاره بخښنه ده او رزق عزت والا (٥٠) او هغه کسان چه کوشش کوی په ایاتونو زمونږ کښ مقابله کړونکی دَ هغے سره دغه کسان دی اور والا (٥١) اونه دے لیږلے مونږ

[٤٧] دا بل زجردے یعنی عبرت نه اخلی بلکه زرعذاب غواړی ﴿وَلَنْ يُّخْلِفَ اللّٰهُ وَعْدَهٗ﴾ دَ وعدنه مراد وعد دَعذاب دے دَ وجے دَ قرینے دَ دے ایت نه اکرچه وعد مستعملیږی په وعده دَثواب کښ ﴿وَاِنَّ يَوْمًا﴾ مطلب دا چه اوږد اوسخت عذاب دے نودوی ډیرجاهلان دی چه داسے عذاب په تلوارے غواړی ﴿كَاَلْفِ سَنَةٍ﴾ مراد داچه تاسودَ یووطن اوعلاقے تخریب په زرکاله کښ کوئے نواللّٰه تعالیٰ ئے په یوورځ کښ کوی اوزرکاله په طوردَ مثال سره ئے وئیلی دی ځکه عرب دَ ډیروالی دَپاره دَ زرو شماره ذکرکوی ځکه دا منتهیٰ دَ عدد ده بغیردَ تکرار نه۔ یا مراد دَ دے نه ورځ دَ قیامت ده لکه چه حدیث کښ وارد دی چه فقراء مسلمانان به جنت ته دَاغنیاؤنه نیمه ورځ وړاندے داخلیږی اوهغه پنځه سوه کاله دی، ابن کثیر داروایت ذکرکړے دے یعنی پوره ورځ زرکاله شوه۔

[٤٨] داهم تخویف دے،تیرشوی ایت کښ فکأین په فاسره ذکرکړے شوځکه چه مهلت نه بعد متصل عذاب راغلے دے اودَ دوی نه وړاندے ئے وعده دَعذاب ذکرکړه اومهلت ئے روستوذکرکړے دے نوپه مینځ کښ ئے دوباره وکأین راوړوپه واو سره۔

[٤٩] په دے ایت کښ اثبات دَ رسالت دے اوجواب دَ استعجال دَعذاب دے۔ حاصل داچه ځه خو رسُول یم دَعذاب دَ راوستلویاروستوکولوماسره اختیار نیشته۔

[٥٠] دا په رسالت باندے تفریع ده چه دَ هغے نه دوه ډلے پیداکیږی یومؤمنان اودا دَ هغوی دپاره بشارت اخرویه دے ﴿وَرِزْقٌ كَرِيْمٌ﴾ دَ دے مصداق صرف جنت دے ځکه چه دَ دنیا په رزق کښ ضرورذلت یاکراؤ وی۔

[٥١] دا تخویف دے منکرینوته ﴿مُعٰجِزِيْنَ﴾ دا باب مفاعله دے مطلب دا دے چه دوی اراده لری دَ عاجز کول دَ صاحب ایات او ایات دَ دوی عاجزکول کوی یا معاجزین معنیٰ منع کوؤنکی خلقولره دَ تابعدارئے دَ نبی ﷺ نه۔

قَبْلِكَ مِنْ رَّسُوْلٍ وَّلَا نَبِيٍّ اِلَّآ اِذَا تَمَنّٰٓى اَلْقَى الشَّيْطٰنُ فِيْٓ اُمْنِيَّتِهٖ ۚ فَيَنْسَخُ اللّٰهُ مَا
يُلْقِي الشَّيْطٰنُ ثُمَّ يُحْكِمُ اللّٰهُ اٰيٰتِهٖ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿۵۲﴾ لِّيَجْعَلَ مَا يُلْقِي الشَّيْطٰنُ
فِتْنَةً لِّلَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ وَّالْقَاسِيَةِ قُلُوْبُهُمْ ؕ وَاِنَّ الظّٰلِمِيْنَ لَفِيْ شِقَاقٍۭ بَعِيْدٍ ﴿۵۳﴾
وَّلِيَعْلَمَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ اَنَّهُ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ فَيُؤْمِنُوْا بِهٖ فَتُخْبِتَ لَهٗ قُلُوْبُهُمْ ؕ وَاِنَّ

ستانه مخکښ هیڅ رسول اونه نبی مګر هرکله چه هغه لوستل کول غورځولے شیطان (وسوسے په زړونو دَ خلقو کښ) په وخت دَ لوستلو دَ هغه کښ نو وران کړل اللّٰه تعالیٰ هغه شبهات چه اچول شیطان بیا کلك اوساتل اللّٰه تعالیٰ اٰیاتونه خپل او اللّٰه تعالیٰ پوهه دے اوحکمتونو والا دے (۵۲) (دَ دے مقصد د پاره)چه اوګرځوی هغه شبهے چه اچوی شیطان امتحان هغه کسانو لره چه په زړونو دَ هغوی کښ مرض دے او دَ سختو زړونو والو لره او یقیناً ظالمان خامخا په دشمنۍ لرے کښ دی (۵۳) او دَ دے دپاره چه یقین اوکړی هغه کسان چه علم ورکړے شوے دے چه داحق دے دَ طرف دَ رب ستانه نو ایمان به راوړی په دے باندے نوښه نرم به شی دے ته زړونه دَ دوی او یقیناً

[۵۲] هرکله ئے چه دوه فریقه ذکرکړل نواوس دَ دے جدا جدا اسباب ذکرکوی دَکافرانودَکفرسبب وسوسے دَ شیاطینو انسی اوجنی دی اودَمؤمنانودَ ایمان سبب زائله کول دَاللّٰه تعالیٰ دی وسوسو او شبهاتو دَ شیاطینولره ﴿مِنْ رَّسُوْلٍ وَّلَانَبِیٍّ﴾ دَ دے دواړو فرق په یوځووجوهوسره دے اوله وجه داچه دَ رسول معنیٰ دا ده چه پیغام رسوؤنکے دے دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه اودَ نبی معنیٰ داچه خبرورکوؤنکے اُمّتیانوته دا فرق نسبتی دے، دویمه وجه داچه رسول خاص دے په هغه پورے چه نازل شوے وی په هغه باندے کتاب الٰهی یا ورسره صحیفے وی دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه اونبی عام دے۔ دریمه وجه داچه رسول عام دے هغه ملائکوته هم وئیلے کیږی چه دَ اللّٰه تعالیٰ وحی راوړی اونبی خاص دے په انسانانو پورے اِذَا تَمَنّٰی داپه معنیٰ دَ لوستلواودَ بیانوؤلودَ وحی دے اوپه اشعارودَعربوکښ په دے معنیٰ هم استعمال شویدے﴿اَلْقَی الشَّیْطٰنُ فِیْٓ اُمْنِیَّتِهٖ﴾ یعنی دَهغه دَ لوستلواودعوت په وخت کښ شیطان انسی اوجنی دَ نوروخلقوپه زړونوکښ شبهات او وسوسے اچوی،کله وائی دا مجنون دے یاساحردے یاکاهن دے یامفتری دے وغیره وغیره ﴿فَیَنْسَخُ اللّٰهُ مَایُلْقِی الشَّیْطٰنُ﴾ یعنی اللّٰه تعالیٰ خپله وحی داسے نازله کړی چه په هغے سره هغه دَشبهاتوجوابونه اوکړی نوهغه شبهات زائله شی اوختم شی﴿ثُمَّ یُحْکِمُ اللّٰهُ اٰیٰتِهٖ﴾ یعنی دَ شبهاتودفع کولونه بعد په دلیلونوسره هغه دعوت دَ نبی محکم کړی۔

[۵۳] دا متعلق دے په القی الشیطان پورے دَ هغے حکمت ذکرکوی یعنی دا شیطان لره ئے تسلط دَ شبهاتواچولودَدے دَپاره ورکړے دے چه هغه امتحان اوګرځی دَشکیانو(منافقانو)اوسخت زړو(کافرانو) دَپاره، اوهغوی پاخه شی په شك اوکفرکښ اوبیا په سخته دشمنۍ دَحق کښ اخته شی۔

اللّٰهَ لَهَادِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿٥٤﴾ وَلَا يَزَالُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فِيْ مِرْيَةٍ مِّنْهُ حَتّٰى تَاْتِيَهُمُ السَّاعَةُ بَغْتَةً اَوْ يَاْتِيَهُمْ عَذَابُ يَوْمٍ عَقِيْمٍ ﴿٥٥﴾ اَلْمُلْكُ يَوْمَئِذٍ لِّلّٰهِ ط يَحْكُمُ

اللّٰه تعالٰی رسوی مؤمنانو لره لاری نیغے ته (٥٤) او همیشه به وی هغه کسان چه کفرئے کړے وی په شك کښ دَ دے نه تردے پورے چه راشي دوی ته قیامت ناګهه او یاراشی دوی ته عذاب دَ ورځے شنلے (٥٥) بادشاهی په دغه ورځ صرف دَ اللّٰه تعالٰی ده فیصله به کوی

[٥٤] دا متعلق دے په فینسخ اللّٰه پورے یعنی اللّٰه تعالٰی چه شبهات دفع کړی نوپه دے سره فائده او رسیږی مؤمنانوته یعنی دَ قرآن په حقانیت باندے دَ هغوی علم اویقین نور زیات شی ﴿فَيُؤْمِنُوْا﴾ نه مراد زیاتوالے دَ ایمان اویقین دے ځکه چه ایمان ئے محکښ راوړے دے یا مراد دَ اوتواالعلم نه محکنی اهل کتاب دی چه هغوی پوهه شول په حقانیت دَقرآن نوایمان ئے په قرآن باندے راوړلو ﴿فَتُخْبِتَ﴾ دَ اخبات معنیٰ په دے سورة کښ تیره شویده یعنی په قرآن باندے په ایمان راوړلوسره اخبات پیداکیږی ﴿لَهَادِ﴾ یعنی په زیادت دَعلم اودَ ایمان اوپه اخبات سره هدایت کښ زیاتے پیداکیږی۔

فائده: دَ دے ایت دا تفسیر چه ذکرشوواضح دے اوبل تفسیر چه بعضِ مفسرینو لیکلے دے او دَ هغے سره واقعه دَ الغرانیق لیکلے ده هغه په ډیرو وجوهو سره غلط دے۔ اوله وجه داچه دغه حدیث صحیح نه دے لکه چه قاضی عیاض په شفاکښ وئیلی دی چه داحدیث په طریقه صحیح معتد به سره نه دے نقل شوے اوپه الفاظوکښ ئے ډیراضطراب دے اودارنګ تفسیرسراج المنیرَ امام بیهقی نه نقل کړیدی چه دا روایت په اعتبارَ نقل سره ثابت نه دے اوتفسیرقرطبی کښ هم دی چه داحدیث منکراومنقطع دے اوامام رازی په تفسیرکبیرکښ وئیلی دی دا روایت باطل دے موضوعی دے۔ دویمه وجه دا چه دا واقعه امام بخاری په کتاب کښ راوړے ده لیکن واقعه دَغرانیق پکښ نیشته۔ دریمه وجه دا چه په دیکښ نسبت دَکذب یا دَغلطئی دے نبیﷺ ته اوحال داچه انبیاء علیهم السلام په باب دَتبلیغ کښ دَغلطئی اودَکذب نه بالاتفاق معصوم دی۔ څلورمه وجه داچه دا دَ قرآن کریم نه هم خلاف ده دَ سورة الحاقه (٤٧) اوسورة بنی اسرائیل (٧٥) نه۔ پنځمه وجه داکه شیطان له داسے تسلط په نبی باندے جائزشی چه دَ هغه په ژبه باندے دَ شرك الفاظ راولی یا دَ نبی دَ اواز سره اوازمشابه کوی اوپه اوریدونکو تلبیس راولی نوبیا په ټول قرآن باندے بے اعتمادی پیداکیږی۔ شپږمه وجه داده چه سورة نجم دَمکے ابتدائی وخت کښ نازل شویدے اودا سورة په مدینه کښ نازل شویدے نودا ډیره بعیده خبره چه تلبیس دَشیطان په قرآن کښ دومره ډیره موده پورے پاتے شی اوپه هغے کښ تردید نه کیږی اووومه وجه داده مفسرابن عبده لیکلی دی چه لفظ دَ الغرانیق دَ الهه په صفت کښ دَ عربوپه نظم اوپه نثرکښ نه دے راغلے بلکه غرانیق غټومردارخورومارغانوته وائی۔ اتمه وجه داده چه دا واقعه که چرے صحیح وے نو یهودیانو اونصاریٰ مشرکانو منافقانوبه په نبیﷺ باندے دَ دے اعتراض کړے وے چه ته پخپله دَ شرك اقرارکوے نومونږ ولے منع کوے۔

[٥٥] دا ایت تعلق لری دَ (٥٣) سره چه دَشبهاتوشیطانیودَ وجے نه کافران همیشه په شك کښ دی اوپه دے کښ تخویف دے۔ دَساعة نه مراد قیامت دے یا وخت دَمرګ، دَ ﴿يَوْمٍ عَقِيْمٍ﴾ نه مراد ورځ

بَيۡنَهُمۡ ؕ فَالَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فِىۡ جَنّٰتِ النَّعِيۡمِ ۝۵۶ وَالَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا وَكَذَّبُوۡا بِاٰيٰتِنَا
فَاُولٰٓئِكَ لَهُمۡ عَذَابٌ مُّهِيۡنٌ ۝۵۷ ع وَالَّذِيۡنَ هَاجَرُوۡا فِىۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ ثُمَّ قُتِلُوۡۤا اَوۡ مَاتُوۡا
لَيَرۡزُقَنَّهُمُ اللّٰهُ رِزۡقًا حَسَنًا ؕ وَاِنَّ اللّٰهَ لَهُوَ خَيۡرُ الرّٰزِقِيۡنَ ۝۵۸ لَيُدۡخِلَنَّهُمۡ مُّدۡخَلًا يَّرۡضَوۡنَهٗ ؕ
وَاِنَّ اللّٰهَ لَعَلِيۡمٌ حَلِيۡمٌ ۝۵۹ ذٰلِكَ ۚ وَمَنۡ عَاقَبَ بِمِثۡلِ مَا عُوۡقِبَ بِهٖ ثُمَّ بُغِىَ عَلَيۡهِ لَيَنۡصُرَنَّهُ

په مینځ دَ دوی کښې پس هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے اوعملونه ئے کړی دی په موافقت دَ سنت په جنتونودَ نعمتونوکښې به وی (۵۶) او هغه کسان چه کفرئے کړے دے او دروغژن کوی ایاتونه زمونږه پس دغه کسان دوی لره عذاب ذلیل کؤونکے دے (۵۷) اوهغه کسان چه هجرت ئے کړے دے دپاره دَ دین دَ اللّٰه تعالیٰ بیا اوژلے شو یا مړه شو خامخا روزی به ورکوی اللّٰه تعالیٰ دوی ته روزی ښائسته او یقیناً اللّٰه تعالیٰ ښه روزی ورکؤونکے دے (۵۸) خامخا داخل به کړی دوی لره ځائے دَ داخلیدلو ته چه دوی به ئے خوښوی او یقیناً اللّٰه تعالیٰ پوهه دے صبر کؤونکے دے (۵۹) دا زیږے یقینی دے او چاچه بدل واخسته پشان دَ هغے چه دوی لره تکلیف ورکړے شویدے بیا ظلم کړے شویدے په هغه باندے خامخا مدد به کوی دَ دهٔ سره

دَ عذاب دنیوی ده یا دَقیامت ورځ مراد ده، عَقِیم شنډے ته وائی او مراد ترینه داسے ورځ ده چه شپه ورپسے نه راځی نوبله ورځ هم نه راځی مراد ترینه بے خیره ورځ ده۔

[۵۶] په دے کښې اشاره ده چه دغه عذاب هیڅوك نشی واپس کولے ځکه چه اختیارصرف دَاللّٰه تعالیٰ دے۔ بیاورپسے بشارت دے۔

[۵۷] په دے ایت کښې تخویف اخروی دے۔

[۵۸] دَ دے ایت نه څلورم باب دے ترآخرَ سورة پورے په دے کښې ترغیب دے هجرت ته په بشارت سره اوترغیب دے قتال ته په ذکرَ نصرت الٰهیه سره اودَ نصرت اسباب ئے ذکرکړی دی بیا پنځه عقلی دلیلونه دی په توحید باندے بیا بیان دَطریقے دَ دعوت دے بیا عقلی دلیل دے بیانهم اولسم زجردے بیا رد دے په مشرکانو په ذکرَ مثال دَ ذباب سره اوجواب دے دَ دوؤ سوالونوبیا اخری دلیل عقلی دے بیا اتهٔ اوامردی دپاره دَ استقامت په توحید اودَ اشاعت دَ هغے۔ په دے (۵۸) ایت کښې بشارت دے مهاجرینوته پس دَ بشارت دَعام مؤمنانونه (۵۶)کښې۔ دا ایت دلیل دے چه روستودَ هجرت نه مقتولیت اوپخپل مرګ مړ کیدل دواړه برابردی لیکن دا برابری په بعضِ نعمتونوکښې ده اګرچه په نورودرجوکښې مقتول شهیدغوره دے﴿رِزۡقًا حَسَنًا﴾ چه بے کړاوه وی اوهروخت لذت ورکوؤنکے وی اوهیڅ نقصان اومرض نه پیداکوی داځائسته رزق دے اودا رزق په برزخ کښې دے لکه سورة العمران (۱۲۹)یا په جنت کښې دے ﴿الرّٰزِقِيۡنَ﴾ داجمع په اعتباردَظاهرسره ده چه خلق هم یوبل ته رزق ورکوی۔

[۵۹] داهم بشارت دے دَ مکان روستو دَبشارت دَ خوراك نه ځکه فکر دَ روزئ مخکښې دے دَ مکان دَ رهائش نه۔

اللّٰهُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَعَفُوٌّ غَفُوْرٌ ﴿٦٠﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ يُوْلِجُ الَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُوْلِجُ النَّهَارَ فِي
الَّيْلِ وَاَنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌۢ بَصِيْرٌ ﴿٦١﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْحَقُّ وَاَنَّ مَا يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ هُوَ
الْبَاطِلُ وَاَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْعَلِيُّ الْكَبِيْرُ ﴿٦٢﴾ اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً ۙ فَتُصْبِحُ
الْاَرْضُ مُخْضَرَّةً ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَطِيْفٌ خَبِيْرٌ ﴿٦٣﴾ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ وَاِنَّ اللّٰهَ لَهُوَ
الْغَنِيُّ الْحَمِيْدُ ﴿٦٤﴾ اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ سَخَّرَ لَكُمْ مَّا فِي الْاَرْضِ وَالْفُلْكَ تَجْرِيْ فِي الْبَحْرِ بِاَمْرِهٖ ؕ ع ١٥

اللّٰه تعالیٰ یقیناً اللّٰه تعالیٰ معافی کؤونکے بخښنه کؤونکے دے (٦٠) دا مدد په دے وجه دے چه یقیناً اللّٰه تعالیٰ ورننه باسی شپے لره په ورځ کښ او ورننه باسی ورځ لره په شپه کښ او یقیناً اللّٰه تعالیٰ هرڅه اوری هرڅهٔ وینی (٦١) دا مدد په دے وجه دے چه یقیناً اللّٰه تعالیٰ لره حقه ده بندګی کول دَهغه اویقیناً (بندګی کول) دَ هغه چاچه دوی ورته رامدد شه وائی سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه دا باطل ده او یقیناً اللّٰه تعالیٰ اوچت دے لوئے ذات والا دے (٦٢) ایانه ګورے چه یقیناً اللّٰه تعالیٰ راورولی دی دَ اسمان دَ طرف نه اوبه پس شی صباله زمکه شنه یقیناً اللّٰه تعالیٰ مهربان دے خبردار دے (٦٣) خاص دَ هغه په اختیار کښ دی هغه چه په اسمانونو کښ دی او هغه څه چه په زمکه کښ دی او یقیناً اللّٰه تعالیٰ خاص هغه دے بے حاجته ستائیلے شوے (٦٤) ایانه ګورئ چه اللّٰه تعالیٰ یقیناً ستاسودَ وس دَلاندے کړیدی ستاسو دَ فائدے د پاره هغه څه چه په زمکه کښ دی او کشتئے روانے دی په دریاب کښ په حکم دَ اللّٰه تعالیٰ سره

[٦٠] په دے ایت کښ بشارت دنیوی دے په نصرت سره روستودَ بشارت اخرویه نه۔ او مراد دَ عاقب نه بدل اخستل دی په قتال سره او ﴿ثُمَّ بُغِيَ عَلَيْهِ﴾ عطف دے په عوقب باندے مراد دا چه چاله چه تکلیف ورکړیشواوبیا پرے ظلم اوکړلے شو یعنی دَ وطن نه اویستلے شو اودغه شخص بدل واخست په قتال کولوسره نو اللّٰه تعالیٰ به دَ دهٔ سره ضرور نصرت کوی۔

[٦١] دا اول علت دے دَپاره دَنصرت دَمجاهد سره یعنی اللّٰه تعالیٰ په انقلاب دَ لَیل اونهار قادر دے نوپه نصرت کولوهم قادر دے یا په دے کښ اشاره ده په طریقه دَ مثال سره فائدے دَ نصرت ته یعنی امداد دَ دے دپاره کوی چه تیارے په رنړا سره بدلے کړی لکه چه رنړا په تیارو سره بدلَوی۔

[٦٢] دادویم علت دے دَ نصرت کولوچه اللّٰه تعالیٰ حق اله دے اونور الهه باطل دی نواللّٰه تعالیٰ مدد کولے شی اونورالهه مدد نشی کولے۔ یا په دے کښ اشاره ده مقصد دَ نصرت ته یعنی مدد دَ دے دپاره کوی چه دَ اللّٰه تعالیٰ توحید بښکاره شی اودَ شرك بطلان بښکاره شی۔

[٦٣] دا دلیل عقلی دَ توحید دے چه هغه په مخکښ ایت کښ ذکرکړے شوے دے ﴿فَتُصْبِحُ﴾ دَ عکرمه نه روایت دے چه دا په مګه اوتهامه علاقه کښ وی چه باران اوشی نوصباله زمکه کښ شینکئ بښکاره شی اوابن عطیه وئیلی دی چه داسے په علاقه دَسوس اقصاکښ هم مالیدلی دی نوفاپه خپله معنیٰ دَ اتصال ده یا فَا صرف دَ عطف دپاره ده۔

[٦٤] دا بل عقلی دلیل دے په توحید باندے او رد دَ شرك فی التصرف دے۔

وَ يُمْسِكُ السَّمَآءَ اَنْ تَقَعَ عَلَى الْاَرْضِ اِلَّا بِاِذْنِهٖ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بِالنَّاسِ لَرَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ﴿٦٥﴾ وَ
هُوَ الَّذِيْۤ اَحْيَاكُمْ ۫ ثُمَّ يُمِيْتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيْكُمْ ؕ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَكَفُوْرٌ ﴿٦٦﴾ لِكُلِّ اُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنْسَكًا
هُمْ نَاسِكُوْهُ فَلَا يُنَازِعُنَّكَ فِى الْاَمْرِ وَ ادْعُ اِلٰى رَبِّكَ ؕ اِنَّكَ لَعَلٰى هُدًى مُّسْتَقِيْمٍ ﴿٦٧﴾ وَاِنْ
جٰدَلُوْكَ فَقُلِ اللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿٦٨﴾ اَللّٰهُ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فِيْمَا كُنْتُمْ فِيْهِ
تَخْتَلِفُوْنَ ﴿٦٩﴾ اَلَمْ تَعْلَمْ اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا فِى السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ ؕ اِنَّ ذٰلِكَ فِىْ كِتٰبٍ ؕ اِنَّ

او راتینګ کړیدے اسمان لره دَ راپریوتلونه په زمکه باندے سیوا دَ حکم دَ هغه نه یقیناً اللّٰه تعالیٰ په خلقو باندے شفقت کؤونکے رحم کؤونکے دے (٦٥)اوهغه داسے ذات دے چه ژوندی کړی یئ تاسو بیا به مړه کوی تاسو بیا به ژوندی کوی تاسو یقیناً انسان خامخا ناشکره دے (٦٦) دپاره دَ هرے ډلے مقرر کړے ده مونږ طریقه دَ بندګئ چه دوی چلیږی په هغے باندے پس دوی تا اونه باسی دَ کارنه په وجه دَجګړے سره په دین کښ او دعوت کوه خپل رب ته یقیناً ته خا مخا ئے په هدایت برابر باندے (٦٧) اوکه دوی جګړه کوی تاسره پس اُوایه چه اللّٰه تعالیٰ ښه پوهه دے په هغه کارونو چه کوئے تاسو ٦٨) اللّٰه تعالیٰ به فیصله اوکړی په مینځ ستاسو کښ په ورځ دَ قیامت په هغه څیز کښ چه تاسویئ په هغے کښ اختلاف کؤونکی (٦٩) ایا ته نه پوهیږے چه یقیناً اللّٰه تعالیٰ پوهه دے په هغه څه چه په اسمان کښ دی او زمکه کښ دی یقیناً دا ټول په کتاب (لوح محفوظ) کښ دی یقیناً

[٦٥] دا بل دلیل عقلی دے په دے کښ تصرفات الٰهیه په زمکه اواسمان اودریابونو کښ ذکر کړی دی اودا آفاقی دلیل دے اوتسخیرد زمکے دَ څیزونودا دے چه دَ هغے نه انسانان هرقسم فائدے اخلی په امرد اللّٰه تعالیٰ سره ﴿وَيُمْسِكُ السَّمَآءَ﴾ کښ اشاره ده چه اسمان بغیرد ستنونه اللّٰه تعالیٰ راتینګ کړے دے۔

[٦٦] دا دلیل عقلی انفسی دے دَ انسان درے حالات ئے ذکر کړیدی اوبیا زجرورکوی چه سره دَ دومره دلیلونونه انسان منکر اومشرك دے۔

[٦٧] هرکله چه دَ انسان کفرئے ذکر کړونودَ هغے دَعلاج دپاره دعوت ذکر کوی لیکن دَ اول نه تشجیع ذکر کوی، حاصل دادے چه دَ هرے ډلے دپاره جدا جدا لار اومسلك دے نودوی به ستا سره ضرور جګړه کوی ستا دَ دین اومسلك په باره کښ لیکن دوی دِ تالره په دے جګړو سره دَکارنه اونه باسی بلکه دعوت کوه توحید دَ رب خپل ته ځکه چه ستا سره پوره صحیح دلیلونه شته دے ﴿لِكُلِّ اُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنْسَكًا﴾ په دے جمله کښ منسکاً حق اوباطل دواړه قسمه طریقوته شامل دے ځکه چه منسك په اصل کښ هغه ځائے اولاړے ته وئیلے شی چه انسان هغے ته عادةً ځی راځی دپاره دَخیریا دَشراوجعل تکوینی اوتشریعی دواړوته عام دے۔

[٦٨] یعنی سرهٔ دَ دعوت دَحق نه که دا منکرین جګړے کوی نودَ دوی دَنورو جوابونونه خاموش شه ځکه چه دوی عنادیان دی صرف دَ اللّٰه تعالیٰ علم ته ئے اوسپاره۔

[٦٩] داهم عنادیانوته جواب دے تفسیرقرطبی کښ لیکلی دی چه په دے ایاتونو کښ دعوت کوؤنکوته

ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرٌ ﴿٧٠﴾ وَيَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهٖ سُلْطٰنًا وَّمَا لَيْسَ لَهُمْ
بِهٖ عِلْمٌ ؕ وَمَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ نَّصِيْرٍ ﴿٧١﴾ وَاِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيٰتُنَا بَيِّنٰتٍ تَعْرِفُ فِيْ وُجُوْهِ
الَّذِيْنَ كَفَرُوا الْمُنْكَرَ ؕ يَكَادُوْنَ يَسْطُوْنَ بِالَّذِيْنَ يَتْلُوْنَ عَلَيْهِمْ اٰيٰتِنَا ؕ قُلْ اَفَاُنَبِّئُكُمْ بِشَرٍّ
مِّنْ ذٰلِكُمْ ؕ اَلنَّارُ ؕ وَعَدَهَا اللّٰهُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ؕ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴿٧٢﴾ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ ضُرِبَ مَثَلٌ ع ٩
فَاسْتَمِعُوْا لَهٗ ؕ اِنَّ الَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ لَنْ يَّخْلُقُوْا ذُبَابًا وَّلَوِ اجْتَمَعُوْا لَهٗ ؕ وَ

دا په الله تعالیٰ باندے اسان دی (۷۰) اوبندګی کوی دوی سیوا دَ الله تعالیٰ نه دَهغه چاچه نه دے نازل کړے په هغے باندے هیڅ دلیل او دَهغه چاچه نیشته دوی لره په هغے باندے علم اونیشته ظالمانو لره هیڅ مددګار (۷۱) اوکوم وخت چه اولوستلے شی په دوی باندے ایاتونه زمونږ بشکاره پیژنے ته په مخونو دَ هغه کسانو کښ چه کفر ئے کړے دے خفګان نزدے دے چه حمله اوکړی په هغه کسانو باندے چه بیانوی په دوی باندے ایاتونه زمونږ ته اُوایه ایا پس خبردرکړم تاسوته په ډیر ناکاره سره دَ دے نه چه اوردے وعده کړیده دَهغے الله تعالیٰ دَهغه کسانو سره چه کفرئے کړے دے اوبد دے ځائے دَ ورګرځیدلو (۷۲) اے خلقو بیانیږی یو مثال نو غوږ کیدئے هغے ته یقیناً هغه کسان چه تاسو ورته رامدد شه وائے سیوا دَ الله تعالیٰ نه هیڅ چرے نشی پیدا کولے یومچ لره اګرکه ټول راغونډ شی هغے ته او

تعلیم دَ اډابودے کوم وخت چه دَ دوی مخاطبه وی دَ عنادیانوسره په دے طریقه دے دَ هغوی جواب اوکړی۔

[۷۰] دا دلیل عقلی دے په اثبات دَعلم دَ الله تعالیٰ سره په هرځیزباندے اودا تائید دے دَ تیرشوی ایت چه الله تعالیٰ دَ دوی دَ اختلاف فیصله کولے شی ځکه چه په هرځیزباندے عالم دے ﴿اِنَّ ذٰلِكَ﴾دا اشاره ده اختلاف دَخلقوته یا اشاره ده دَاسمانونو اوزمکوځیزونوته چه داټول دَتقدیرپه کتاب کښ دی اوپه دویم ذٰلِكَ کښ هم دا دواړه توجیه دی۔ اودا آیت دلیل دے په اثبات دَ لیکلودَ تقدیراتوباندے۔

[۷۱] په دے ایت کښ زجردے په شرك فی العبادة باندے یعنی دَ مشرکانوسره منزل دلیل نیشته اودلیل عقلی هم نیشته او دیته ئے ظلم وئیلے دے۔

[۷۲] په دے کښ زجردے په انکاردَ قرآن سره یعنی دَ دوی سره خودلیل نیشته اوهرکله چه دوی ته په دلیل دَتوحیدکښ قرآن لوستلے کیږی نوپه هغے باندے خفه کیږی اودَ قرآن په واضح اوریدلو سره غصّه کیږی اونزدے وی چه په قرآن بیان کوونکی باندے حمله اوکړی دپاره دَ منع کولودَ هغه ﴿بِشَرٍّ﴾ یعنی ورته اُوایه چه ستاسوپه نیزدَ قرآن بیان کول شردے لیکن دَ دے نه زیات شراُوردَ جهنم دے چه دَ قرآن نه منع کونکودپاره تیاردے۔

اِنْ يَّسْلُبْهُمُ الذُّبَابُ شَيْـًٔا لَّا يَسْتَنْقِذُوْهُ مِنْهُ ؕ ضَعُفَ الطَّالِبُ وَالْمَطْلُوْبُ ﴿۷۳﴾ مَا قَدَرُوا
اللّٰهَ حَقَّ قَدْرِهٖ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَقَوِيٌّ عَزِيْزٌ ﴿۷۴﴾ اَللّٰهُ يَصْطَفِيْ مِنَ الْمَلٰٓئِكَةِ رُسُلًا وَّمِنَ النَّاسِ ؕ اِنَّ
اللّٰهَ سَمِيْعٌۢ بَصِيْرٌ ﴿۷۵﴾ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ ؕ وَاِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ الْاُمُوْرُ ﴿۷۶﴾ يٰٓاَيُّهَا

که چرے او تختوی دَ دوی نه مچ څه څیز نه شی خلاصولے هغے لره دَ هغه نه کمزورے دے غوختونکے او دَچانه چه غوښتنه کیدیشی (۷۳) عزت نه دے کړے دوی دَ اللّٰه تعالیٰ لائِق عزت دَ هغه، یقیناً اللّٰه تعالیٰ قوت والا دے زور اور دے (۷٤) اللّٰه تعالیٰ غوره کوی دَ ملائکونه پیغام رسوؤنکی او دَ انسانانونه یقیناً اللّٰه تعالیٰ هرڅه آوری هرڅه وینی (۷۵) عالم دے اللّٰه تعالیٰ په هر هغه حال چه وړاندے دَ دوی دی اوهغه چه روستو دَ دوی دی او خاص اللّٰه تعالیٰ ته ورګرځولے شی ټول کارونه (۷٦) اے

[۷۳] یعنی هرکله چه دوی دَ قرآن دَ بیان په وخت کښ شوراوجګړه کوی اوغوږ ورته نه نیسی نودغه وخت دوی ته او وایه چه شورمه کوئے غوږ کیدے یوعجیبه مثال پیش کیدلے شی ﴿مَثَلٌ﴾ ذکرد ذُبَاباً دَ ټول مخلوق نه په طریقه دَ مثال سره دے یا مراد دَمثل نه عجیبه بیان دے حاصل دا دے چه معبودان ماسوی اللّٰه (که اولیاء وی که بتان وی) ټول کمزوری دی ځکه چه مچ په خلقو کښ ناقص الخلقت دے لیکن دوی ټول یومچ هم نشی جوړولے بلکه مچ چه پخپلوپنجواوخوله کښ دَ دوی خوراکونووغیرونه څه څیزاوتختوی نودَدوی معبودانو وس نیشته چه هغه ترینه خلاص کړی یعنی دوی نه اختیاردَ ایجادلری اونه دَ ځان نه ضرردفع کولے شی۔ نوداسے کمزورے مخلوق به څنګه حاجتونه پوره کړیشی۔

فائده: ذُبَاب ئے دَځوروجونه خاص ذکرکړو، اول داچه دَمعبودانوماسوی اللّٰه په دربارونوکښ خوراك ځکاك اوخواړه په طوردَ نذردَغیراللّٰه سره ډیروی او هغے له مچان ډیر راځی، دویم داچه دَمچ په بدن کښ اندامونه دَ ماشی نه هم کم دی نوچه لږواندامونووالا نشی پیداکولے نو دَ ډیرواندامونووالا به څرنګه پیداکړیشی اوپه دے وجه اکثرپه دربارونودَ غیراللّٰه کښ بیماراوړانده، ګوډ، شل خلق پراته وی لیکن دغه قبرونووالا هغوی نشی جوړولے نونورخلقوله به څه حاجتونه پوره کړی، دریم داچه مچ دَ اللّٰه تعالیٰ په مخلوق کښ ډیراجهل دے (حیٰوة الحیوان داسے ذکرکړیدی) اودَ دے وجے نه دَ قبردَ منجورمثال دَ بے حیا مچ سره ورکړے شویدے نو دا معبودان من دون اللّٰه دَ دغه بے حیاهم مقابله نشی کولے اودَ هغوی نه څه څیزنه شی راخلاصولے ﴿الطَّالِبُ وَالْمَطْلُوْبُ﴾ ابن جریروئیلی دی چه طالب دغه معبود(صنم) دے او مطلوب ذ باب دے اودویم قول دا دے چه طالب عابد دے اومطلوب معبود من دون اللّٰه دے۔

[۷٤] دا زجردے دغه مشرکانوته چه دَکمزوری مخلوق نه حاجات غواړی اللّٰه تعالیٰ ئے هیرکړیدے نودوی دَ اللّٰه تعالیٰ قدرنه کوی اودَ هغه صفتونه نه پیژنی، اودارنګ رد دَ مشرکانودے چه هغوی په مؤحد باندے طعن کوی چه تادَ اولیاؤاو بزرګانو قدرنه دے کړے نوجواب اوشو چه تاسودَ اللّٰه تعالیٰ قدرنه کوئے۔

[۷۵] دا جواب دَ قول دَ مشرکانودے هغوی وائی چه مونږدَ دے اولیاؤ بزرګانونه حاجات ځکه غواړوچه اللّٰه تعالیٰ دوی ته دا اختیارات ورکړی دی حاصل دَ جواب دا دے چه اللّٰه تعالیٰ مخلوق خپل له چه لویه مرتبه ورکوی نوهغه رسالت دے دَرسالت نه بره مرتبه دَ خدائیتوب ده هغه هیڅ چاڼه نه ورکوی۔

اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوا ارْكَعُوْا وَاسْجُدُوْا وَاعْبُدُوْا رَبَّكُمْ وَافْعَلُوا الْخَيْرَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿۷۷﴾ وَجَاهِدُوْا فِي اللّٰهِ حَقَّ جِهَادِهٖ ؕ هُوَ اجْتَبٰىكُمْ وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّيْنِ مِنْ حَرَجٍ ؕ مِلَّةَ اَبِيْكُمْ اِبْرٰهِيْمَ ؕ هُوَ سَمّٰىكُمُ الْمُسْلِمِيْنَ ۙ۬ مِنْ قَبْلُ وَفِيْ هٰذَا لِيَكُوْنَ الرَّسُوْلُ شَهِيْدًا عَلَيْكُمْ وَتَكُوْنُوْا شُهَدَآءَ عَلَى النَّاسِ ۚۖ فَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ وَاعْتَصِمُوْا بِاللّٰهِ ؕ هُوَ مَوْلٰىكُمْ ۚ فَنِعْمَ الْمَوْلٰى وَنِعْمَ النَّصِيْرُ ﴿۷۸﴾

ایمان والو رکوع کوئ او سجدے کوئ او بندگی کوئ خاص دَ رب خپل او کوئ دَخیر کارونه دَ دے دپاره چه کامیاب شئے (۷۷) او جهاد کوئ په لار دَ اللّٰه تعالیٰ کښ پوره جهاد هغه غوره کړی ئیے تاسو (د پاره دَ جهاد) اونه ده ګرځولے اللّٰه تعالیٰ په تاسو باندے په دین کښ هیڅ تنګسیا (تابع شئے) دَ دین دَ پلار ستاسو چه ابراهیم(علیه السلام) دے هغه تاسوله نوم کیخودلے دے مسلمان مخکښ دَ دے قرآن نه (په نورو کتابونو کښ) اوپه دے قرآن کښ د دے دپاره چه شی رسول رسؤونکے (دَ دین) تاسوته اوتاسو شئے رسؤونکی (دَ دین) نورو خلقوته پس پابندی کوئ دَ مونځ او ورکوئے زکوٰة او کلك شئے په دین دَ اللّٰه تعالیٰ پورے هغه ستاسو مولا دے پس ښه مولا دے اوښه مددګار دے(۷۸)

[۷۶] دا دَ مخکښ دپاره دلیل دے چه چاله رسالت ورکوی نودَ هغوی په حال باندے ښه عالم دے اودارنګ دَ هغوی په عبدیت اوعجزباندے هم عالم دے ځکه ئے دَ ځان سره نه شریکوی۔

[۷۷] هرکله چه بیان شول احوال دَ مشرکانونو اوس خطاب کوی مؤمنانوته په هغه امورو سره چه په هغے سره فلاح او نصرت حاصلیږی او هغه ځلور اوامردی په دے ایت کښ اوځلوردی په روستوایت کښ، رکوع اوسجده ئے خاص ذکرکړه چه دَ نوروسرکشانونه فرق په دے سره راځی په قیام سره نه راځی ﴿وَاعْبُدُوْا﴾ عام دے دَ رکوع اوسجدے نه ټولوعبادات بدنیه اومالیه ته شامل دے ﴿وَافْعَلُوا الْخَيْرَ﴾ دا دَ عبادت نه هم عام دے ښهٔ اخلاق اودَمخلوق سره احسان کول اونفلی کارونه په کښ داخل دی۔ ابن کثیرپه تفسیردَ ایت (۱۸) دَ دے سورة کښ روایات دَاحمد اوترمذی اوابوداؤد په اثبات دَ دے سجده کښ ذکرکړیدی اوهریوباندے کلام نقل کړیدے، بیائے وئیلی دی چه دا روایات بعضے دَ بعضو تائیدکوی۔

[۷۸] مراد دَ جهادنه عام دے مجاهده دَ نفس سره او دَشیطان سره اودَظالمانو سره او دعوت او تبلیغ دَ حق ټولوته شامل دے ﴿حَقَّ جِهَادِهٖ﴾ مراد دا دے هریوفردله جهادپه شرعی طریقے سره ضروری دے یا مراد داچه نفس اومال اوجان ټول په جهادکښ صرف کړئے ﴿هُوَاجْتَبَاكُمْ﴾ دَ دے نه شپږعلتونه دَجهاد دَپاره ذکرکوی اول داچه اللّٰه تعالیٰ تاسوغوره کړئے (منتخب کړئے) دَ جهاد اودعوت دَپاره لکه چه سورة العمران (۱۱۰) کنتم خیرامةٍ الایة دے، دویم داچه په تاسوباندے دَ دین په اعمالواودَ دین په دعوت کښ حرج نه دے کیخودلے بلکه ستاسودَ وس اوطاقت مناسب دے اوپه دے کښ اشاره ده نصرت دَاللّٰه تعالیٰ ته۔ دریم داچه جهاد دَ ملّت ابراهیمیه نښه ده، ځلورم داچه ابراهیم(علیه السلام) ستاسونوم په مخکنو کتابونواوپه دے قرآن

سُوْرَةُ الْمُؤْمِنُوْنَ (۲۳) مَكِّيَّةٌ (۱۴) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۱۱۸ رُكُوْعَاتُهَا ۶

(بقیه تفسیر دَ سورة الحج) کښ مسلمین کیخودلے دے اودَ مسلمان کارجهاد دے۔ ضمیرد ﴿سَمّٰكُمُ﴾ ابراهیم علیه السلام ته راجع دے، ﴿وَفِیْ هٰذَا﴾ کښ اشاره ده سورة بقره (۱۳۸) ته دویم قول دا چه دا ضمیراللّٰه تعالیٰ ته راجع دے، ﴿مِنْ قَبْلُ﴾ نه مراد مخکنی کتابونه دی وفی هذا نه مراد قرآن کښ هغه اٰیاتونه دی چه په هغے کښ دے امت ته دَ اسلام نسبت کړے شویدے برابره خبره ده که دانسبت په طریقه دَ اسم فاعل سره وی اوکه دَ فعل سره وی اوپه حدیث دَ نسائی کښ المسلمین المؤمنین عباد اللّٰه ذکردے نومعلومه شوه چه مراد په دے کښ تسمیه صفتی ده دا علم نه دے۔ پنځم داچه رسول به په تاسوباندے شهادت کوی دَ تبلیغ دَ دین تاسوته، شپږم داچه تاسوبه هم شهادت ورکوئے په نوروخلقوباندے اودامرتبه ستاسودَ وجے دَجهادکولونه ده اودَ دے شهادت تفسیرپه سورة بقره (۱۴۳) کښ تیرشویدے اوبیا درے امورئے نورذکرکړل چه په هغے سره دَ دعوت اودَجهاد دَپاره ثبت حاصلیږی اواختتام ئے په بشارت سره اوکړو چه په دے طریقه باندے عمل کولوسره دَ اللّٰه تعالیٰ ولایت (دوستانه) اونصرت حاصلیږی۔

سُوْرَةُ الْمُؤْمِنُوْنَ

ربط: دَ دے سورة دَ سورة حج سره دا دے (۱) دَ سورة حج په اخرکښ مؤمنانوته اوامرذکرشول دَپاره دَ دنیوی کامیابئے نو دَ دے سورة په اول کښ ذکرکوی صفات دَمؤمنانودپاره دَفلاح اخروی (۲) په هغه سورة کښ رد دے په شرك دَتحریم اوتحلیل نوپه دے سورة کښ تردید دے په شرك فی البرکات باندے چه هغه مبدء دَ شرك فعلی ده۔

دعویٰ دَ دے سورة: رد دے په شرك فی البرکات باندے په شپږوطریقو سره اول دولس عقلی دلیلونه، شپږدَ سورة په اول کښ اوشپږپه اخرکښ۔ دویم شپږنقلی دلیلونه۔ دریم مقابله په مینځ دَصفاتودَ مؤمنانو اودَمشرکانوکښ اوهریودَ هغے نه څوارلس څوارلس دی۔ څلورم ویره ورکول مشرکانوته په ذکرد اووه اسبابودَ عذاب اواووه حالتونه دَ عذاب۔ پنځم تردید په شپږ قسمونودَ شرك، شپږم ذکردَ یوولس اسماء حسنیٰ دَ اللّٰه تعالیٰ دَ معرفت دَپاره۔

خلاصه دَ سورة: دا سورة تقسیم دے څلوروبابونوته اول باب تر(۲۳) پورے دے په دے کښ بشارت دے مؤمنانو ته په اوؤ صفاتوسره اوبیا شپږعقلی دلیلونه دی اودعویٰ دَ سورة ده۔

قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ ۝١ الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ صَلَاتِهِمْ خٰشِعُوْنَ ۝٢ وَالَّذِيْنَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُوْنَ ۝٣
وَالَّذِيْنَ هُمْ لِلزَّكٰوةِ فٰعِلُوْنَ ۝٤ وَالَّذِيْنَ هُمْ لِفُرُوْجِهِمْ حٰفِظُوْنَ ۝٥ اِلَّا عَلٰٓى اَزْوَاجِهِمْ اَوْ مَا مَلَكَتْ
اَيْمَانُهُمْ فَاِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُوْمِيْنَ ۝٦ فَمَنِ ابْتَغٰى وَرَآءَ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْعٰدُوْنَ ۝٧ وَالَّذِيْنَ هُمْ لِاَمٰنٰتِهِمْ

الجزء الثامن عشر (١٨)

یقیناً کامیاب دی مؤمنان (١) هغه کسان چه دوی په خپلو مونځونو کښ عاجزی کؤونکی دی (٢) اوهغه کسان چه دوی دَبے فائدے ځیزونونه مخ ګرځوی (٣) او هغه کسان چه دوی زکوٰة لره ورکؤونکی دی (٤) او هغه کسان چه دوی دَخپلو عورتونو ساتنه کوی (٥) مګر په خپلو بیبیانو باندے یا هغه وینځے چه مالکان دی خی لاسونه دَ دوی پس یقیناً دوی نه دی ملامته کړے شوی (٦) پس چاچه اولټؤو سیوا دَ دے نه نودغه کسان دوی دَ حدنه تیروتونکی دی (٧) او هغه کسان چه دوی دَ امانتونو خپلو

تفسیر

[١] په دے ایت کښ ئے مرکزی صفت ذکر کړے دے چه ایمان دے امام ترمذی حدیث ذکر کړے دے دَ هغے مضمون دا دے چه دا ایاتونه چه نازل شول نونبی ﷺ قبلے ته مخ کړلواولاس ئے پورته کړل دعائے اوغوښتله اللهم زدنا ولاتنقصنا (ترآخره پورے) بیائے اوفرمائیل چه ماباندے لس ایاتونه نازل کړے شویدی چاچه په دے باندے عمل اوکړلونوجنت ته به داخلیږی اشاره شوه چه مراد دَ فلاح نه جنت ته داخلیدل دی اودَ اورنه بچ کیدل دی۔

[٢] خشوع صفت دَ زړه دے چه اثاردَ هغے په اندامونوباندے ښکاره کیږی یعنی په مانځه کښ دَ بدن اوجاموسره لوبے نه کوی اوپه زړه کښ سیوئ دَ مانځه نه نورفکرونه نه راولی اوپه قیام رکوع سجده کښ صرف دَ سجدے ځائے ته ګوری اودَ خپلے مخے نه کانړی وغیره (بے ضرورته) نه لرے کوی۔ اودَ قرآن په معنیٰ باندے فکر ساتی اودَ حکم دَ خشوع په باره کښ دَ اهل علم اختلاف دے صحیح دا ده چه خشوع فرض ده اګرچه په ټول مونځ کښ به لږساعت وی۔

[٣]دا دریم صفت دے اودَ لغونه مراد ټول ګناهونه اوعبث کارونه دی کفراوشرك بدعات او رسمونه رواجونه دروغ غیبت وغیره پکښ داخل دی۔اودارنګ مجلسونه دَ شرك اوبدعاتواورسمونه رقصونه وغیره هم په دے کښ داخل دی۔

[٤] دا ځلورم صفت دے اودَ زکوٰة نه مراد دَ نفس دَ پاك ساتلوعملونه دی (تزکیه دَ نفس) اوپاك والے دَمال په صدقاتواو زکوٰة ورکولوسره هم په کښ داخل دی۔ اوابن کثیروئیلی دی چه اصل زکوٰة دَمال فرض شویدے په مکه کښ اونصاب او مقدارونه ئے مقررشویدی په مدینه کښ۔

[٥] داپنځم صفت دے دَعفت اودَپاکدامنئے اوحفاظت دَ فرجونودوه قسمه دے (١) دَښکاره کولونه بچ ساتل او(٢) دَزنا بدکارئے نه هم پاك ساتل دی۔

[٦] دا ایت دلیل دے چه وینځه دَسړی دغه مولیٰ لره بغیرد نکاح نه جائزده ځکه چه دَ اَزوَاجِهِم نه ئے جدا ذکر کړے ده۔

[٧] دا ایت دلیل دے چه زنا اواغلام بازی اومتعه ټول حرام دی ځکه چه دا ټول په ﴿وَرَآءَ ذٰلِكَ﴾ کښ

وَعَهْدِهِمْ رٰعُوْنَ ۝٨ وَالَّذِيْنَ هُمْ عَلٰى صَلَوٰتِهِمْ يُحَافِظُوْنَ ۝٩ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْوٰرِثُوْنَ ۝١٠ الَّذِيْنَ يَرِثُوْنَ
الْفِرْدَوْسَ ؕ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ۝١١ وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ مِنْ سُلٰلَةٍ مِّنْ طِيْنٍ ۝١٢ ثُمَّ جَعَلْنٰهُ نُطْفَةً فِيْ
قَرَارٍ مَّكِيْنٍ ۝١٣ ثُمَّ خَلَقْنَا النُّطْفَةَ عَلَقَةً فَخَلَقْنَا الْعَلَقَةَ مُضْغَةً فَخَلَقْنَا الْمُضْغَةَ عِظٰمًا فَكَسَوْنَا
الْعِظٰمَ لَحْمًا ۗ ثُمَّ اَنْشَاْنٰهُ خَلْقًا اٰخَرَ ؕ فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ اَحْسَنُ الْخٰلِقِيْنَ ۝١٤ ثُمَّ اِنَّكُمْ بَعْدَ ذٰلِكَ لَمَيِّتُوْنَ ۝١٥ ثُمَّ

او لوظونو خپلو لحاظ کړونکی دی (٨) او هغه کسان چه دوی په مونځونو خپلوباندے ساتنه کوی(٩) دغه کسان دوی حقداران دی (١٠) هغه کسان چه حق دار به شی دَ جنت فردوس دوی به په هغے کښ همیشه وی (١١) او یقیناً پیدا کړے مونږ انسان د چانړ کړے شوے خټے نه (١٢) بیا جوړه کړه مونږه هغه نطفه په ځائے دَ قراری مضبوط کښ (١٣) بیا شکل هم ورکړو نطفے لره دَ ټکړے دَوینے بیا شکل هم ورکړو ټکړے دَوینے لره پوټے دَغوښے پس اوګرځوو مونږ پوټے هډوکی والا بیا واغوستوله مونږ هډوکوته غوښه بیا پیدا کړو مونږ هغه په پیدائش بل سره پس برکات ورکړونکے دے الله تعالیٰ چه خائِسته دَ شکل جوړوونکونه دے (١٤) بیا یقیناً تاسو روستو دَ دے نه خامخا به مړه کیږئ (١٥) بیا

داخل دی اودارنګ په سورة معارج(٣١)کښ ذکردی، اوامام شافعیؒ دَ دے ایت نه دلیل نیولے دے چه استمنا په لاس سره حرام ده اودا صحیح دے۔

[٨] دا شپږم صفت دے اوامانات ټول دینی اودنیوی ذمه واروته شامل دی اوعهدنه مراد هغه امور دی چه انسان ئے په ځان باندے لازم اوګرځوی که حقوق الله وی او که حقوق العباد وی۔

[٩] دا اووم صفت دے اومراد دَ محافظت دَ صلوة نه پوره شرطونه اوارکان دی اوهمیشه کول دَ مونځ اوپه سنت طریقے سره کول اومفسداتواومکروهاتونه بچ ساتل دی، خشوع صفت قلبی اوباطنی ووٗ۔ اومحافظت صفت ظاهری دے۔

[١٠، ١١] دا بیان دَفلاح دے چه په اول ایت کښ ذکرشویده اومراد دَ وراثت نه استحقاق دے لکه وارث چه حقدارد میراث دے نودارنګ دوی حق دارد جنت دی۔

[١٢] دا اول دلیل عقلی انفسی دے مراد دَ انسان نه ادمعليه السلام دے او ﴿سُلٰلَةٍ مِّنْ طِيْنٍ﴾ نه مراد دا دے چه نرمه خټه په موټی کښ اونیولے شی او زور ورکړے شی اوپه ګورتونو کښ خټه راووځی نوهغے ته سلالة وائی۔

[١٣، ١٤] ﴿جَعَلْنٰهُ﴾ ضمیرنه مراد اولاد دَ آدمعليه السلام دے په قرینه دَ سورة سجدة (٨) اودَ عام انسانانودَ پیدائش شپږحالات ئے ذکرکړی دی۔ اودارنګ سورة حج کښ تیرشوی دی اومراد دَخلق آخرنه دَ روح اچولونه روستوترمرګه پورے ټول حالت مراد دے ﴿فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ﴾ دعویٰ دَ سورة ده اومعنیٰ دَ دے په سورة اعراف کښ تیره شویده اواحسن په معنیٰ دَ مضبوط اوکلك دے یاخلق په معنیٰ دَ شکل جوړولو دے اواحسن په معنیٰ دَخائسته دے۔

[١٥] داحکم عام دے، انبیاؤاولیاؤ ته هم شامل دے۔

اِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ تُبْعَثُوْنَ ﴿١٦﴾ وَلَقَدْ خَلَقْنَا فَوْقَكُمْ سَبْعَ طَرَآئِقَ ۖ وَمَا كُنَّا عَنِ الْخَلْقِ غٰفِلِيْنَ ﴿١٧﴾ وَاَنْزَلْنَا مِنَ
السَّمَآءِ مَآءًۢ بِقَدَرٍ فَاَسْكَنّٰهُ فِى الْاَرْضِ ۖ وَاِنَّا عَلٰى ذَهَابٍۭ بِهٖ لَقٰدِرُوْنَ ﴿١٨﴾ فَاَنْشَاْنَا لَكُمْ بِهٖ جَنّٰتٍ مِّنْ
نَّخِيْلٍ وَّاَعْنَابٍ ۖ لَكُمْ فِيْهَا فَوَاكِهُ كَثِيْرَةٌ وَّمِنْهَا تَاْكُلُوْنَ ﴿١٩﴾ وَشَجَرَةً تَخْرُجُ مِنْ طُوْرِ سَيْنَآءَ تَنْۢبُتُ وقف لازم
بِالدُّهْنِ وَصِبْغٍ لِّلْاٰكِلِيْنَ ﴿٢٠﴾ وَاِنَّ لَكُمْ فِى الْاَنْعَامِ لَعِبْرَةً ۖ نُسْقِيْكُمْ مِّمَّا فِىْ بُطُوْنِهَا وَلَكُمْ فِيْهَا مَنَافِعُ كَثِيْرَةٌ وَّ

یقیناً تاسو په ورځ د قیامت به دوباره ژوندی کیږئ (١٦) او یقیناً پیدا کړی دی مونږ اوچتے ستاسو نه اووه لارے اونه یو مونږ د مخلوق نه ناخبره (١٧) او راورولی دی مونږ د طرف د اسمان نه اوبه په انداز سره پس اوسولی دی مونږ هغه په زمکه کښ او یقیناً مونږ په وچوولو دَهغے باندے خامخا قدرت لرونکی یو (١٨) پس پیدا کړل مونږ تاسو لره په دے اوبوسره باغونه د کجورو او د انګورو ستاسو دپاره په هغے کښ میوے ډیرے دی او بعضے دَهغے نه تاسو خورئے (١٩) (اوپیدا کړے ده) اونه چه رااوځی د غر خائسته نه راتهوکوی تیل او پخکړے د پاره د خوراك کڅونکو (٢٠) او یقیناً تاسو لره په څارڅو کښ خامخا عبرت دے څښکڅو په تاسو باندے دَهغے نه چه په خیټو د هغے کښ دی او تاسو لره په هغے کښ فائدے ډیرے دی او

[١٦] دا ذکرد دویم ژوند دے اوهغه هم ژوند حقیقی دے پشان د ژوند د دنیا اود قبرژوند هم شته د نورودلیلونوپه وجے سره لیکن هغه ژوند حقیقی نه دے څکه ئے نه دے ذکر کړے۔

[١٧] دا دویم دلیل عقلی آفاقی علوی دے ﴿طَرَآئِقَ﴾ نه مراد دا دے چه دَیوبل دپاسه دی یا مراد د دے نه داچه لارے دی د ملائکوډتلوراتلودپاره ﴿عَنِ الْخَلْقِ﴾ دامصدرپه معنیٰ دَمفعول دے یعنی ټول مخلوق اوپه دے کښ اشاره ده چه د اسمانونو حفاظت او امساك هم اللّٰه تعالیٰ کوی۔

[١٨] دا دریم دلیل عقلی وسطی دے او ﴿فَاَسْكَنّٰهُ﴾ مطلب دا دے چه دا اوبه دَباران په زمکه کښ په طریقه دَکویانواوچینواو خوړونو سیندونو سره موجود دی ﴿وَاِنَّاعَلٰى ذَهَابٍ﴾ کښ تخویف دے بندګانو ته که اللّٰه تعالیٰ دا اوبه اوچے کړی نو هیڅوك ئے نشی واپس کولے داسے په سورة ملك (٣٠) کښ هم دی۔

[١٩] دا څلورم دلیل سفلی دے ﴿فَوَاكِهُ﴾ نه مراد نورے میوے دی سیوا دَکجورواوانګورنه یا مراد دا دے چه داکجورے او انګور مختلف اوډیرقسمونه دی ﴿وَمِنْهَا﴾ کښ اشاره ده چه دَخوراك نه علاوه نورے فائدے هم په دے کښ شته۔

[٢٠] داپنځم دلیل سفلی دے، د دے اونے نه مراد خونهٔ ده چه د هغے تیل د دهن په ځائے استعمالیږی (یعنی غوړول پرے کیدلے شی) اودَخوراك دپاره دَسالن (پخکړی) په ځائے هم استعمالیږی اوطور سیناهرهغه غرته وئیلے کیږی چه په هغے کښ ډیراونے بوټی اومیوے وی اوپه هغے سره خائسته ښکاره کیږی۔

مِنْهَا تَاْكُلُوْنَ ﴿٢١﴾ وَعَلَيْهَا وَعَلَى الْفُلْكِ تُحْمَلُوْنَ ﴿٢٢﴾ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا اِلٰى قَوْمِهٖ فَقَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا
لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ؕ اَفَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿٢٣﴾ فَقَالَ الْمَلَؤُا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖ مَا هٰذَاۤ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ ۙ يُرِيْدُ اَنْ
يَّتَفَضَّلَ عَلَيْكُمْ ؕ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَاَنْزَلَ مَلٰٓئِكَةً ۚۖ مَّا سَمِعْنَا بِهٰذَا فِيْۤ اٰبَآئِنَا الْاَوَّلِيْنَ ﴿٢٤﴾ اِنْ هُوَ اِلَّا رَجُلٌۢ
بِهٖ جِنَّةٌ فَتَرَبَّصُوْا بِهٖ حَتّٰى حِيْنٍ ﴿٢٥﴾ قَالَ رَبِّ انْصُرْنِيْ بِمَا كَذَّبُوْنِ ﴿٢٦﴾ فَاَوْحَيْنَاۤ اِلَيْهِ اَنِ اصْنَعِ الْفُلْكَ

بعض دَ هغے نه تاسو خورئے (۲۱) او په دغه څارؤو باندے او په کشتو باندے سوره ولے شئے تاسو (۲۲) او یقیناً لیږلے دے مونږ نوح(علیه السلام) قوم دَ هغه ته پس هغه اُوئیل اے قومه زما بندگی کوئ دَ اللّٰه تعالیٰ خاص نیشته تاسو لره حق دار دَ بندگئے سیوا دَ هغه نه ایا پس ولے نه ویریږئ تاسو(۲۳) پس اُوئیل غټانو هغه چه کفرئے کړے ؤودَ قوم دَ هغه نه چه نه دے مګر بنده دے ستاسو په شان غواړی چه غوره والے حاصل کړی په تاسو باندے او که غوښتلے اللّٰه تعالیٰ خامخا نازل کړے به ئے وے ملائکو لره نه دی اوریدلی مونږ دا خبرے په مشرانو مخکښنو کښ (۲٤) نه دے دامګر سړے دے په دهٔ باندے لیونتوب دے نو انتظار کوئ په باره دَ دهٔ کښ تریو وخت پورے (۲۵) اُوئیل دهٔ اے ربه زما امداد اوکړے زما په دے سبب چه دوی ماته دروغژن وائی (۲٦) پس وحی اوکړه مونږ دهٔ ته چه جوړوه کشتئ

[۲۱] دا شپږم دلیل دے ﴿مَنَافِعُ﴾ منافع دَ پیوړیزیات دی دَ دے وجے نه عرب دے ته (درّ) هم وائی شوملے، لسی، ماسته، ګڼ، غوړی وغیره دَ دے نه جوړیږی اومنافعودَ خرمنواوویختواوورئے ته شامل دے۔

[۲۲] دا اووم دلیل عقلی دے اودَ سورلئے دَپاره دَ انعام نه اوښان مراد دی ځکه چه غویانوباندے سورلی مناسب نه ده په حدیث شریف کښ دَ هغے منعے ته اشاره ده۔ او ایت کښ اشاره ده سورلے دَ اوچے او دریاب ته۔

[۲۳] دَ دے ایت نه دویم باب دے تر(۵۱) پورے په دے کښ شپږ نقلی دلیلونه دی دَ انبیاء علیهم السلام نه په رد دَ شرك فی البرکات باندے یعنی دغه انبیاء علیهم السلام اودَ هغوی ملګروته نجات اومخالفینوته عذاب دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه وؤ اودیته برکات وئیلے شی۔ اودَ دے ایت نه اول دلیل نقلی دے۔ هرکله چه رسولان رالیږل نعمت دے دَاللّٰه تعالیٰ دَطرف نه نودَ دے وجے نه دائے عطف کړوپه مخکے انعاماتو باندے۔

[۲٤] په دے ایت کښ دَ مخالفینودَ طرف نه ځلوراعتراضونه ذکرشویدی په نوح(علیه السلام) باندے ﴿يُرِيْدُ اَنْ يَّتَفَضَّلَ عَلَيْكُمْ﴾ دا عادت دے دَ دنیا پرستو چه هغوی حق پرست په ځان باندے قیاس کوی او وائی چه دے اقتداراومشری غواړی۔

[۲۵] داپنځم اعتراض دے اوپه دے کښ دَ هغه ډیره بے عزتی ئے کړیده ﴿حَتّٰى حِيْنٍ﴾ مراد دا دے چه ځه وخت پس به دَ دهٔ لیونتوب ښکاره شی یا داچه دے به مړشی نومونږ به ترینه خلاص شو۔

[۲٦] نصرت دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه برکت دے اوانبیاء هم په برکاتو کښ اللّٰه تعالیٰ ته محتاج دی۔

بِاَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا فَاِذَا جَآءَ اَمْرُنَا وَفَارَ التَّنُّوْرُ ۙ فَاسْلُكْ فِيْهَا مِنْ كُلٍّ زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ وَاَهْلَكَ اِلَّا مَنْ سَبَقَ عَلَيْهِ الْقَوْلُ مِنْهُمْ ۚ وَلَا تُخَاطِبْنِيْ فِي الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ۚ اِنَّهُمْ مُّغْرَقُوْنَ ﴿۲۷﴾ فَاِذَا اسْتَوَيْتَ اَنْتَ وَمَنْ مَّعَكَ عَلَى الْفُلْكِ فَقُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ نَجّٰىنَا مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۲۸﴾ وَقُلْ رَّبِّ اَنْزِلْنِيْ مُنْزَلًا مُّبٰرَكًا وَّ اَنْتَ خَيْرُ الْمُنْزِلِيْنَ ﴿۲۹﴾ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ وَّاِنْ كُنَّا لَمُبْتَلِيْنَ ﴿۳۰﴾ ثُمَّ اَنْشَاْنَا مِنْۢ بَعْدِهِمْ قَرْنًا اٰخَرِيْنَ ﴿۳۱﴾

په مخامخ دَ سترګوزمونږ اوپه وحي زمونږ سره پس کله چه راشي حکم دَ عذاب زمونږ او اوخوټکيږي تنور پس ورننه باسه په کشتئ کښ دَ هر قسم حيوان نه جوړے دوه خيزه او اهل خپل ماسيوا دَ هغه چانه چه مخکښ شويده په هغه باندے فيصله دَ دوی نه اومه کوه خبرے ماسره په باره دَ ظالمانو کښ يقيناً دوی غرقولے کيږی (۲۷) پس هرکله چه برابرشے ته او څوك چه ستاسره دی په کشتئ باندے نو اُوايه ستائنه دَ خدائے ده اللّٰه تعالیٰ لره هغه ذات چه نجات ئے راکړے دے مونږ له دَ قوم ظالمانونه (۲۸) او اُوايه اے ربه زما راکوز کړے مالره ځائے دَ کوځيدلو برکت والا ته اوته غوره ئے دَ کوځوونکو نه (۲۹) يقيناً په دے کښ خامخا عبرتونه دی او يقيناً مونږ امتحان کوونکی يو (۳۰) بيا پيدا کړه مونږ روستو دَ دوی نه پيړۍ بله (۳۱)

[۲۷] دَ دے تفسيرپه سورة هود (٤٠) کښ تيرشويدے ﴿فَاسْلُكْ﴾ مراد دَ دے نه داخلول دی اوسورة هودکښ ئے احمل ذکرکړے دے يعنی اول ئے داخل کړه نوسواره ئے کړه، اوهرکله چه په دے سورة کښ سورلی دَکشتومخکښ ذکرکړے ده نو دَ دے وجے نه دلته ئے احمل ذکرنه کړو ﴿بِاَعْيُنِنَا﴾ دا دَصفاتودَ اللّٰه تعالیٰ نه دے اودا په ظاهری معنیٰ سره مراد دے بغيردَ تشبيه اوتمثيل اوتاويل نه دا دَ سلف صالحينوعقيده ده۔

[۲۸] په دے ايت کښ تصريح ده چه برکات ورکوؤنکے صرف اللّٰه تعالیٰ دے اوپه دے کښ تعليم دَ ذکرکولودے په وخت دَ سورلے کښ۔

[۲۹] په دے کښ تصريح ده چه برکات ورکوؤنکے اللّٰه تعالیٰ دے او ﴿مُنْزَلًا﴾ دا مصدر دے يعنی کوځول يا ظرف دے يعنی ځائے دَکوځيدلواو ﴿مُبٰرَكًا﴾ نه مراد دا دے چه په هغے کښ سلامتيا اونجات وی اودَ دين دَ اشاعت اودَ اللّٰه تعالیٰ دَ رضا دپاره وی، اوپه دے ايت کښ اشاره ده چه هرکله چه څوك په يوځائے کښ اقامت (ديره) کوی يامسجد اوبل مکان ته داخليږی نودا دعا دِلولی، دارنګ ئے تفسير قرطبی کښ هم ليکلی دی۔

[۳۰] يعنی په دے واقعه کښ ډيردليلونه دی دپاره دَتوحيد في البرکات او نور عبرتونه دی ۔ اويو حکمت پکښ ابتلاء ده دَمؤمنانواوعبرت دَ عذاب دے دَپاره دَ کافرانو۔

[۳۱] ﴿قَرْنًا﴾ اسم جنس دے عاد، ثمود، قوم لوط، اصحاب مدين ټولوته شامل دے اوهرکله چه په دے کښ عموم مقصد دے دَ دے وجے نه روستو ايت کښ رسول ئے مبهم ذکرکړلودپاره دَ دے چه ټولوته عام شی۔

فَاَرْسَلْنَا فِيْهِمْ رَسُوْلًا مِّنْهُمْ اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ؕ اَفَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿٣٢﴾ وَقَالَ الْمَلَاُ مِنْ قَوْمِهِ
الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا بِلِقَآءِ الْاٰخِرَةِ وَاَتْرَفْنٰهُمْ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۙ مَا هٰذَآ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ ۙ يَاْكُلُ مِمَّا
تَاْكُلُوْنَ مِنْهُ وَيَشْرَبُ مِمَّا تَشْرَبُوْنَ ﴿٣٣﴾ وَلَئِنْ اَطَعْتُمْ بَشَرًا مِّثْلَكُمْ اِنَّكُمْ اِذًا لَّخٰسِرُوْنَ ﴿٣٤﴾ اَيَعِدُكُمْ اَنَّكُمْ
اِذَا مِتُّمْ وَكُنْتُمْ تُرَابًا وَّعِظَامًا اَنَّكُمْ مُّخْرَجُوْنَ ﴿٣٥﴾ هَيْهَاتَ هَيْهَاتَ لِمَا تُوْعَدُوْنَ ﴿٣٦﴾ اِنْ هِيَ اِلَّا حَيَاتُنَا

پس اولیږهٔ مونږ په هغوی کښ رسول دَ هغوی نه چه بندګی خاص کوئ اللّٰه تعالیٰ لره نیشته تاسو لره حقدار دَ بندګئ سیوا دَ هغه نه ایا پس نه بچ کیږئ دَ شرك نه (۳۲) او اُوئیل غټانو دَ قوم دَ هغه نه هغه کسانو چه کفرئے کړے ؤو او دروغژن ئے ګنړلو ملاقات دَ اخرت اوبدمسته کړی ؤو دوی لره په ژوند دُنیوی کښ چه نه دے دے مګر بنده دے پشان ستاسو خوراك کوی دَهغے نه چه تاسو خوراك کوئے دَهغے نه او څښکاك کوی دَهغے نه چه تاسو څښکل کوئ (۳۳) اوکه تابعداری اوکړه تاسو دَیو بنده چه ستاسو پشان دے یقیناً تاسو به ئے دغه وخت تاوان والا (۳٤) ایا وعده کوی دے ستاسو سره چه یقیناً تاسو کله چه مړه شئے او تاسو شئے خاورے او هډوکی یقیناً تاسو به راویستلے کیږئے (۳۵) لرے ده لرے ده هغه چه تاسو سره ئے وعده کیدے شی (۳٦) نه دے دا مګر ژوند زمونږ

[۳۲] دَ دے ایت نه دویم دلیل نقلی دے اوپه دے کښ اختلاف دے بعضے مفسرینووئیلی دی چه دا قصه دَعادیانووه اودَ رسول نه مراد هودعليه السلام دے ځکه چه نوروسورتونوکښ چه دَ انبیاؤ قِصص ذکرکړی دی نوپه نوحعليه السلام پسے دَ هودعليه السلام ذکر دے لیکن په دے باندے اعتراض دا دے چه په دے قصه کښ عذاب دَ صیحه (چغے)ذکرکړیدے اوپه عادیانوباندے عذاب دَ سیلئ راغلے دے دَ دے جواب دا دے کیدے شی چه سیلئے سره عذاب دَ چغے جمع کړے شوے وی۔ لکه چه تفسیرقرطبی لیکلی دی، اوبعضے مفسرینو وئیلی دی چه دا قصه دَ ثمودیانوده اودَ رسول نه مراد صالحعليه السلام دے ځکه چه عذاب دَ صیحه اول په هغوی باندے راغلے وؤ لکه چه سورة هود کښ ذکرکړے شویدے اوبعضے مفسرینو وئیلی دی چه دا قوم دَشعیبعليه السلام دے لیکن دا قول ضعیف دے ځکه چه روستود دے نه دَ موسیٰعليه السلام ذکردے اودَ شعیب اوموسیٰعليه السلام په مینځ کښ نور رسولان نوؤرالیږلے شوی لکه سورة قصص نه معلومیږی اودلته په مینځ کښ ذکردے چه ارسلنا رُسلَنا تتراً۔

[۳۳] په دے ایت کښ دَ هغه قوم ئے دوه صفتونه ذکرکړل (کفراوتکذیب) کفرنه مراد انکار دَ توحید اودَ رسالت نه دے او بیا ئے دَ دے صفتونو سبب ذکرکړوچه هغه وسعت(فراخی) دَنعمتونودَ دنیا ده اوبیا دَ دوی اعتراض په رسول باندے ذکرکړوچه دے بشردے اودارنګ په دهٔ کښ لوازم دَ بشریت دی(یعنی خوراك سکاك کوی) یعنی زمونږ اودَ دهٔ هیڅ فرق نیشته۔

[۳٤] په دے ایت کښ دَ هغوی لوئے جرم ئے ذکرکړویعنی خلقولره دَ نبی دَ اطاعت نه منع کول اوهغه سبب دَ خسران او تباهئ ګنړل۔

[۳٦،۳۵] په دے کښ په نبی باندے دَ هغوی دَ طرف نه بل اعتراض ذکرکوی په باره دَ (بعث بعد الموت) کښ اودویم ایت کښ دَ دوی انکارذکرکوی چه داخبره دَ عقل نه لرے خبره ده یعنی دَعقل نه

الدُّنْيَا نَمُوْتُ وَنَحْيَا وَمَا نَحْنُ بِمَبْعُوْثِيْنَ ﴿٣٧﴾ اِنْ هُوَ اِلَّا رَجُلٌ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا وَّمَا نَحْنُ لَهٗ بِمُؤْمِنِيْنَ ﴿٣٨﴾
قَالَ رَبِّ انْصُرْنِيْ بِمَا كَذَّبُوْنِ ﴿٣٩﴾ قَالَ عَمَّا قَلِيْلٍ لَّيُصْبِحُنَّ نٰدِمِيْنَ ﴿٤٠﴾ فَاَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ بِالْحَقِّ فَجَعَلْنٰهُمْ
غُثَآءً ۚ فَبُعْدًا لِّلْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٤١﴾ ثُمَّ اَنْشَاْنَا مِنْۢ بَعْدِهِمْ قُرُوْنًا اٰخَرِيْنَ ﴿٤٢﴾ مَا تَسْبِقُ مِنْ اُمَّةٍ اَجَلَهَا
وَمَا يَسْتَاْخِرُوْنَ ﴿٤٣﴾ ثُمَّ اَرْسَلْنَا رُسُلَنَا تَتْرَا ؕ كُلَّمَا جَآءَ اُمَّةً رَّسُوْلُهَا كَذَّبُوْهُ فَاَتْبَعْنَا بَعْضَهُمْ بَعْضًا
وَّجَعَلْنٰهُمْ اَحَادِيْثَ ۚ فَبُعْدًا لِّقَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُوْنَ ﴿٤٤﴾ ثُمَّ اَرْسَلْنَا مُوْسٰى وَاَخَاهُ هٰرُوْنَ ۙ بِاٰيٰتِنَا وَسُلْطٰنٍ

دُنیوی دے مړه کیږو بعضے مونږه او پیدا کیږی بعضے او مونږنه یو دوباره ژوندی کړے شوی (۳۷) نه دے دامګر سړے دے جوړ کړیدی په اللّٰه تعالٰی باندے دروغ اونه یو مونږ دهٔ لره ایمان لرونکی (۳۸) دهٔ اُوئیل اے ربه زما مدد اوکړے زما سره په دے وجه چه دوی ماته دروغژن وائی(۳۹) اُوئیل اللّٰه تعالٰی روستو دَ لږ وخت نه خامخا شی به دوی پښیمانه (٤٠) پس اونیؤو دوی لره چغے هیبت ناکے په عذاب سره پس اوګرځول مونږ دوی لره تورشوی بوس پس هلاکت دے قوم ظالمانو لره (٤١) بیا پیدا کړلے مونږ روستو دَ دوی نه پیړئے نورے (٤٢) نه ږواندے کیږی هیڅ اُمت دَ خپلے نیټے نه اونه روستو کیږی (٤٣) بیا اولیږل مونږ رسولان خپل پرله پسے هر کله چه راغے یو اُمت ته رسول دَهغوی دوی به دروغژن اُوئیل هغه ته پس هلاك کړل مونږ بعضے روستو دَ بعضونه اوګرځول مونږ دوی لره قصے دَ عبرت پس هلاکت دے هغه قوم لره چه ایمان نه لری (٤٤) بیا اولیږهٔ مونږ موسیٰ(علیه السلام) او رور دَهغه هارون(علیه السلام) په خپلو اٰیاتونو سره او په دلیل

خلاف ده۔

[۳۷] دا دَ مخکښ سره تاکید دے په باره دَ انکاردَ بعث بعدالموت ﴿نَمُوْتُ وَنَحْيَا﴾ دَ دے نه مراد دا دے چه بعضے مړ کیږو اوبعضے ژوندی پاتے کیږو(ترڅه وخت پورے)۔

[۳۸] دا هم انکار دے دَ رسالت نه اونسبت دے رسول ته دَ اِفتراء عَلَی اللّٰه تعالٰی۔ اودا دلیل دے چه مشرکانواللّٰه تعالٰی منلو اوپه اللّٰه تعالٰی تعالٰی باندے افتراء کول هم دَ هغوی په نیز قبیح کار وؤ لیکن حق نبی ته نسبت دَ افتراء کولو کفردے۔

[۳۹، ٤٠، ٤١] دا دُعادَ رسول ده اوښکاره دلیل دے چه انبیاء هم په نصرت کښ اللّٰه تعالٰی ته محتاج دی او ﴿لَيُصْبِحُنَّ﴾ ئے ځکه اوفرمائیل چه عام عذابونه په وخت دَ صبا کښ راغلی دی او ﴿نٰدِمِيْنَ﴾ نه مراد پښیمانتیا ده په کفرکولوباندے او ندامت اګرچه توبه ده لیکن داپه وخت دَ عذاب کښ نه قبلیږی ﴿الصَّيْحَةُ﴾ که مراد دَ دے قوم نه عادیان وی نومعلومه شوه چه په هغوی باندے دَعذاب دَسیلئے سره عذاب دَ صیحَة هم راغلے وؤ لکه چه تفسیرقرطبی او ابن کثیر لیکلی دی ﴿بِالْحَقِّ﴾ مراد دَ دے نه عذاب دے یا معنیٰ دَ دے ده استحقاق عذاب ﴿غُثَآءً﴾ هغه خس وخشاك ته وئیلے کیږی چه سیلاب دَپاسه اوچت روان وی۔

[٤٢، ٤٣، ٤٤]دادلیل نقلی اجمالی دے په دے کښ مراد هغه قومونه اورسولان دَ هغوی دی چه دَقوم عادنه ترفرعون پورے په مینځ کښ پرله پسے راغلی وؤ ﴿اَحَادِيْثَ﴾مراد ترینه واقعات دَعبرت دی اودا لفظ

مُّبِيْنٍ ﴿٤٥﴾ اِلٰى فِرْعَوْنَ وَمَلَا۟ئِهٖ فَاسْتَكْبَرُوْا وَكَانُوْا قَوْمًا عَالِيْنَ ﴿٤٦﴾ فَقَالُوْٓا اَنُؤْمِنُ لِبَشَرَيْنِ مِثْلِنَا وَقَوْمُهُمَا
لَنَا عٰبِدُوْنَ ﴿٤٧﴾ فَكَذَّبُوْهُمَا فَكَانُوْا مِنَ الْمُهْلَكِيْنَ ﴿٤٨﴾ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ لَعَلَّهُمْ يَهْتَدُوْنَ ﴿٤٩﴾ وَ
جَعَلْنَا ابْنَ مَرْيَمَ وَاُمَّهٗٓ اٰيَةً وَّ اٰوَيْنٰهُمَآ اِلٰى رَبْوَةٍ ذَاتِ قَرَارٍ وَّمَعِيْنٍ ﴿٥٠﴾ يٰٓاَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوْا مِنَ
الطَّيِّبٰتِ وَاعْمَلُوْا صَالِحًا ؕ اِنِّيْ بِمَا تَعْمَلُوْنَ عَلِيْمٌ ﴿٥١﴾ وَاِنَّ هٰذِهٖٓ اُمَّتُكُمْ اُمَّةً وَّاحِدَةً وَّاَنَا رَبُّكُمْ فَاتَّقُوْنِ ﴿٥٢﴾

بنکاره سره (٤٥) فرعون ته او غټانو دَ قوم دَ هغه ته نو لوئي او کړه دوی او دوی ؤو قوم زوراور (٤٦) پس اُوئیل دوی ایا ایمان راوړو مونږ په دوه بندګانو چه پشان زمونږ دی اوقوم دَ دوی مونږ لره عبادت کؤونکی دی (٤٧) پس دوی دروغژن کړل هغوی لره پس شول دَ هلاك کړے شؤونه (٤٨) او یقیناً ورکړے ؤو مونږ موسیٰ(علیه السلام) ته کتاب دَ دے دپاره چه دوی هدایت اومومی (٤٩) او کړځولے دے مونږ ځوئے دَ مریم او مور دَ هغه لره نخه او ځائے ورکړے ؤو مونږ دواړو لره یو ځرے زمکے ته چه دَ ارام ځائے ؤو او دَ اوبو چینه دارو (٥٠) (وئیلی ؤو مونږ) اے رسولانو خورئے دَ حلال ځیزونو نه او عملونه کوئ نیك یقیناً ځه په هغه عملونو چه تاسوئیے کوئے پوهه یم (٥١) او یقیناً دا دین ستاسو دے دین یو او ځه ستاسو رب یم پس ویریږئے زمانه (٥٢)

اکثریه شر اوعذاب کښ استعمالیږی۔

[٤٥، ٤٦، ٤٧، ٤٨] دابل دلیل نقلی دے ﴿فَقَالُوْٓا اَنُؤْمِنُ لِبَشَرَيْنِ﴾ دابیان دے دَ استکبروا ﴿وَقَوْمُهُمَا لَنَا عٰبِدُوْنَ﴾ دابیان دے دَ عَالِيْنَ او ﴿عٰبِدُوْنَ﴾ نه مراد خدمتګاران دی۔ فرعون دَ بنی اسرائیلونه خدمتګاران جوړ کړی وؤلکه سورة شعراء کښ ان عبدّت بنی اسرائیل ﴿فَاسْتَكْبَرُوْا﴾ کښ فا دپاره دَعطف ده ﴿فَقَالُوْٓا﴾ کښ فَا دپاره دَتفسیر ده۔ فکذبوهما کښ اوفکانوا کښ فاسببیه ده یعنی استکبارسبب شو دپاره دَ تکذیب اوتکذیب سبب شودپاره دَ اهلاك۔

[٤٩] تورات صرف په موسیٰ(علیه السلام) نازل کړے شوے وؤځکه په دے ایت کښ خاص دَ موسیٰ(علیه السلام) ذکرئے اوکړواوتورات ورکول روستودَ اهلاك دَ فرعون نه وؤدپاره دَ هدایت دَ بنی اسرائیلو۔

[٥٠] داهم دلیل نقلی دے دَ عیسیٰ(علیه السلام) اودَ مور دَ هغه نه چه دوی په برکاتوکښ اللّٰه تعالیٰ ته محتاج دی ﴿اٰيَةً﴾ ئے مفرد ځکه ذکرکړو چه مراد ترینه پیداکیدل دَ عیسیٰ(علیه السلام)دَ مورنه بغیرد نارینه نه وو، نودایو ایت دے اویا اٰيَةً په معنیٰ دَجنس ایت دے نو دَمریم علیها السلام حالات اودَعیسیٰ(علیه السلام) حالاتوته اشاره ده۔ ﴿رَبْوَةٍ﴾ هره سَربه زمکه چه سطحه ئے اوچته وی او ﴿قَرَارٍ﴾ نه مراد دا دے چه دَ اوسیدلوپوره اسباب په کښ موجود وؤ او ﴿مَعِيْنٍ﴾ نه مراد دے چه دَ اوبو چینے پکښ موجود وے اوپه دے کښ اختلاف دے چه دا رمله وه یا بیت المقدس یا دمشق وؤ۔ اودَ دے سبب دا وؤچه یهودی ظالم بادشاه وؤهغه اراده کړے وه چه عیسیٰ(علیه السلام) لره قتل کړی نومریم او عیسیٰ(علیه السلام) دواړوهجرت اوکړودَپاره دَحفاظت دَځپل ځان۔

[٥١] دَ دے نه دریم باب دے تر(٧٧) پورے په دے کښ دلیل نقلی اجمالی دَ پوځوانبیاؤنه ذکرکوی بیا زجر دے په تفرق دَ خلقوسره بیازجرونه دی په ذکرکولودَ اوصاف قبیحه ځوارلس دَمشرکینواوپه مینځ کښ اوؤه صفات دَ مؤمنانوذکرکوی او اخردَباب کښ تخویف دنیوی دے په دوه ایاتونوکښ، په دے

فَتَقَطَّعُوْٓا اَمْرَهُمْ بَيْنَهُمْ زُبُرًا ؕ كُلُّ حِزْبٍۭ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُوْنَ ﴿۵۳﴾ فَذَرْهُمْ فِيْ غَمْرَتِهِمْ حَتّٰى حِيْنٍ ﴿۵۴﴾ اَيَحْسَبُوْنَ
اَنَّمَا نُمِدُّهُمْ بِهٖ مِنْ مَّالٍ وَّبَنِيْنَ ﴿۵۵﴾ نُسَارِعُ لَهُمْ فِي الْخَيْرٰتِ ؕ بَلْ لَّا يَشْعُرُوْنَ ﴿۵۶﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ هُمْ مِّنْ خَشْيَةِ

نو ټکړے کړو دوی دین خپل کورنئے کښ ټکړے ټکړے هره ډله په هغه دین چه دوی سره دے خوشحالیږی (۵۳) پس پریږده دوی لره په ګمراهئ دَ دوی کښ تریو وخت پورے (۵۴) ایا ګمان کوی دوی چه یقیناً هغه چه مونږ زیاتوو دوی لره مالونه او ځامن (۵۵) دا زر بدله ورکؤو دوی لره دَ نیك عملونو دَ وجے نه بلکه دوی نه پوهیږی (۵۶) یقیناً هغه کسان چه دوی دَ وجے دَ ویرے

(۵۱) ایت کښ غوره توجیه دا ده چه داحکم ټولورسولانوته ورکړے شوے ووپه خپله زمانه کښ اودلته قلناپټ مراد دے، یعنی هرکله چه تیرشوی ایاتونوکښ دَ انبیاؤعلیهم السلام مدد دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه ذکرکړے شونوپه دے ایت کښ اشاره ده سبب دَ دغه مدد ته۔ اواشاره ده چه ټول انبیاء دَ اللّٰه تعالیٰ محکوم بندګان دی نو هغوی دَ اللّٰه تعالیٰ سره په برکات ورکولوکښ شریك نشی کیدلے او ﴿الطَّيِّبٰتِ﴾ هغه دَ خوراك ځیزونوته وئیلے کیږی چه دَ شرك اوحرمت دَ شبهاتونه پاك وی اوپاك حلال خوراك سبب دے دَ قبولیت دَ عمل صالح نودَ دے وجے نه ئے مخکښ ذکرکړلو۔ اوعمل صالح نه مراعمل دے موافق دَ وحی الٰهی سره۔

[۵۲] دا دلیل دے چه حلال خوراك کول اودَ وحی سره موافق عمل کول دَ ټولوپیغمبرانواتفاقی دین دے۔ ﴿فَاتَّقُوْنِ﴾ کښ مراد دا دے چه دَحرام خوراك نه اومخالف دَ شرع دَعمل نه ځان بچ ساتئے هم داسے سورة انبیاء کښ تیرشویدی په هغه سورة کښ دَانبیاء علیهم السلام دعاګانے اوعبادتونه ئے ذکرکړی وؤ، نوځکه ئے دے امت ته اوفرمائیل ﴿فَاعْبُدُوْنِ﴾ اوپه دے ایاتونو کښ تقویٰ ئے ذکرکړه چه دَ حرامونه ځان اوساتئے، چه مخکښ ایت سره مناسبت دے۔

[۵۳] په دے ایت کښ زورنه ده په تفرق اوتحزب سره په سبب دَ مخالفت کولوسره دَ دین دَپیغمبرانونه۔ هرکله چه په دُعا اوعبادتونوکښ تفرق ځه موده روستووؤ اوډیر زیات تفرق نه وؤنودَ دے وجے نه سورة انبیاء کښ ﴿وَتَقَطَّعُوْٓا﴾ په واوسره ذکرکړے وؤاو ﴿زُبُرًا﴾ ورسره نه دے کړے اوپه طعامونو او اعمالو کښ مخالفت زرشروع شوے وؤاوپه هغے سره ډیرے ډلے پیداشوے وے نوپه دے وجه په دے ایت کښ ﴿فَتَقَطَّعُوْٓا﴾ په فاسره او ﴿زُبُرًا﴾ ئے ذکرکړلو ﴿كُلُّ حِزْبٍۭ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُوْنَ﴾ په دے کښ اشاره ده چه هرجماعت خپل عمل اوطریقے ته دین اوثواب وئیل اګرچه مخالف وؤ دَ دین دَ پیغمبرانو نه لکه ډلے دَ بدعتیانوچه دی، اوسورة انبیاء کښ صرف مخالفت ذکرکړے وؤ اګر چه خپلوطریقوته ثواب نه وائی نوهلته ئے دَ تخویف دپاره ﴿وَاَلَيْنَا رٰجِعُوْنَ﴾ ذکرکړے وؤ۔

[۵۴] دَ دے ایت نه حالات ځوارلس دَ منکرینوذکرکوی په دے ایت کښ یوحال ذکردے یعنی غفلت اوګمراهی دَ هغه کسانوچه په دین کښ ئے ټکړے پیداکړی دی، اوپه لفظ دَ ﴿فَذَرْهُمْ﴾ کښ تسلی ده نبی ته چه دَ دے منکرینوپه مهلت او روستوکیدلودَ عذاب باندے خفګان مه کوه۔

[۵۵،۵۶] په دے ایاتونوکښ ئے دوه حالات دَ منکرینوذکرکړی دی ګمان دَ خیراوعدم شعورمطلب دا

رَبِّهِمْ مُّشْفِقُوْنَ ﴿٥٧﴾ وَالَّذِيْنَ هُمْ بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ يُؤْمِنُوْنَ ﴿٥٨﴾ وَالَّذِيْنَ هُمْ بِرَبِّهِمْ لَا يُشْرِكُوْنَ ﴿٥٩﴾ وَالَّذِيْنَ يُؤْتُوْنَ
مَآ اٰتَوْا وَّقُلُوْبُهُمْ وَجِلَةٌ اَنَّهُمْ اِلٰى رَبِّهِمْ رٰجِعُوْنَ ﴿٦٠﴾ اُولٰٓئِكَ يُسٰرِعُوْنَ فِى الْخَيْرٰتِ وَهُمْ لَهَا سٰبِقُوْنَ ﴿٦١﴾ وَلَا
نُكَلِّفُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا وَلَدَيْنَا كِتٰبٌ يَّنْطِقُ بِالْحَقِّ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿٦٢﴾ بَلْ قُلُوْبُهُمْ فِىْ غَمْرَةٍ مِّنْ هٰذَا

دَ رب خپل نه مینه کؤونکی دی دَ هغه سره (٥٧) او هغه کسان چه دوی په ایاتونو دَ رب خپل باندے ایمان لری (٥٨) او هغه کسان چه دوی دَ خپل رب سره شرك نه کوی (٥٩) او هغه کسان چه ورکوی هغه څه چه ورکوی او زړونه دَ دوی ویره کؤونکی وی چه یقیناً دوی خپل رب طرف ته به ورګرځی (٦٠) دغه کسان ورزغلی نیکو کارونو ته او دوی هغے ته دَ یوبل نه رواندے کیږی (٦١) او تکلیف نه ورکؤو هیڅ نفس ته مګر په قدر دَ وس دَهغه او زمونږ سره کتاب دے چه ګویا به شی په حق وئیلو سره اوپه دوی باندے به ظلم نه شی کیدے (٦٢) بلکه زړونه دَ دوی په غفلت کښ دی دَ دے (کتاب نه)

دے چه دَ دوی مالونه اوځامن وخت په وخت زیاتیږی نودَ دوی ګمان دا دے چه دا دَ دوی په دنیاکښ دَ نیکواعمالوبدله اواثردے یا دا دَ دوی دَ پنه حالاتودَپاره اسباب دی اوحال داچه دا استدراج دے لکه چه سورة العمران (١٧٨)کښ تیرشویدی۔

[٥٧] داپه طریقه دَ مقابلے سره دَ مؤمنانودَ صفاتوذکردے چه هغه اووه دی او اووه په اول دَ سورة کښ ذکرشویدی نوټول څوارلس شول اوداصفتونه سبب دَ خیرات دے اودا بشارت دے هغه کسانوته چه دین دَ انبیاؤنه ئے مخالفت نه دے کړے ﴿خَشْيَةِ﴾ دَ زړه حال دے او ﴿مُشْفِقُوْنَ﴾ دَ ظاهر حالت دے چه دَ ویرے اثرپه ظاهری اندامونو باندے ښکاره شی اوزړه هم نرم شی اودا دوه صفتونه دی۔

[٥٩،٥٨] په دے کښ دوه صفتونه ذکرشویدی هرکله چه ایمان په آیتونو باندے سبب دے دَ شرك نه دَ بچ کیدلو دپاره نو دَ دے وجے نه ایمان بالآیات ئے په شرك نه کولوباندے مقدم ذکرکړلو۔

[٦٠] په حدیث دَ ترمذی کښ ذکرشویده چه مراد دے نه هغه کسان دی چه روژے نیسی اومونځونه کوی اوتصدق کوی اوبیاهم ویریږی چه قبول به نه کړیشی، او دا کمال ایمان دے په نسبت دَ هغه چاچه ګناه کوی اودَ اللّٰه تعالیٰ نه ویره کوی۔ اوپه دے ایت کښ دَ مؤمنانو بل صفت ذکر کړے شوے دے۔

[٦١] په دے ایت کښ دوه صفتونه ذکرکړے شوی دی﴿يُسٰرِعُوْنَ﴾ سارعه وئیلے شی اهم فالاهم مخکے کول اودا مقابل دَعجلت دے اوباب مفاعلة دَ مبالغے دپاره ده ﴿لَهَا﴾ لام په معنیٰ دَ الیٰ دے اومعنیٰ ښکاره ده یا لام اجلیه دے معنیٰ دا ده چه دوی دَ وجے دَ خیرات نه سبقت کوؤنکی دی په درجاتوکښ یا جنت ته۔

[٦٢] اوله جمله جواب دَ سوال دے چه دا تیرصفتونه حاصلول ډیرګران دی نو جواب اوکړے شوچه دا دَ انساناتودَ طاقت نه بهرنه دی اودویمه دریمه جمله کښ تسلی ده چه دَ دوی دَ عملونوجزاء نه ضائع کیږی ځکه چه په عملنامه دَ ملائکوکښ موجود دی۔

وَلَهُمْ اَعْمَالٌ مِّنْ دُوْنِ ذٰلِكَ هُمْ لَهَا عٰمِلُوْنَ ﴿٦٣﴾ حَتّٰۤى اِذَاۤ اَخَذْنَا مُتْرَفِيْهِمْ بِالْعَذَابِ اِذَا هُمْ يَجْـَٔرُوْنَ ﴿٦٤﴾
لَا تَجْـَٔرُوا الْيَوْمَ ۫ اِنَّكُمْ مِّنَّا لَا تُنْصَرُوْنَ ﴿٦٥﴾ قَدْ كَانَتْ اٰيٰتِيْ تُتْلٰى عَلَيْكُمْ فَكُنْتُمْ عَلٰۤى اَعْقَابِكُمْ تَنْكِصُوْنَ ﴿٦٦﴾
مُسْتَكْبِرِيْنَ ۖ۬ بِهٖ سٰمِرًا تَهْجُرُوْنَ ﴿٦٧﴾ اَفَلَمْ يَدَّبَّرُوا الْقَوْلَ اَمْ جَآءَهُمْ مَّا لَمْ يَاْتِ اٰبَآءَهُمُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿٦٨﴾

او دوی لره نور عملونه دی سیوا دَ دغه عملونونه چه دوی هغے لره کوونکی دی (همیشه) (٦٣) تر هغے پورے چه هر کله اونیسو مونږ بدمسته دَ دوی په عذاب سره دغه وخت به دوی کړنجیکی (فریادکوی) (٦٤) مه کړونجیکئ نن یقیناً تاسو سره زمونږ دَ طرف نه هیڅ مدد نشی کیدلے (٦٥) یقیناً ؤو ایاتونه زما لوستلے کیدل به په تاسو باندے پس وئے تاسو په پوندو خپلو باندے اوړیدلئ (٦٦) لوئی کؤونکی وئ دَ دے نه قصه کوئے پریخودو به تاسو دهٔ لره (٦٧) ایا پس سوچ نه کوی دوی په دے قرآن کښ بلکه راغلے دے دویته هغه څیز چه نه ؤو راغلے مشرانو دَ دوی مخکښنو ته (٦٨)

[٦٣] دَ دے ځائے نه بیا صفتونه دَ منکرینو شروع شول اومتصل دے په معنیٰ کښ دَ بَل لَایَشعُرُونَ سره، اوغَمرَه، په معنیٰ دَ غفلت دے۔ اوهذَا اشاره ده صفاتودَ مؤمنانوته په تاویل دَ مذکور سره یا اشاره ده کتاب (عملنامے) ته ﴿وَلَهُمْ اَعْمَالٌ﴾ مراد دا دے چه دَ شرك اوکفر نه علاوه عملونونه دَ بدعاتواو رواجونواو فسق وفجور دی۔ یا مراد دا چه دَاعمالودَ مؤمنانونه سیوا (خلاف) دَ دوی عملونه دی۔

[٦٤] دا تخویف دنیوی دے ﴿حَتّٰۤى﴾ متعلق دے په عاملون پورے اوپه ﴿مُتْرَفِيْهِمْ﴾ کښ اشاره ده سبب دَ ناکاره عملونو ته چه هغه عیش پرستی اوسرمایه داری ده۔

[٦٥] دا وئیلے کیږی په زبان حال سره یا ملائك ورته په وخت دَ نزع کښ وائی یا داپه معنیٰ دَ جملے خبریئے سره دے یعنی داچغے تاسوته هیڅ فائده نه درکوی ﴿مِنَّا﴾ زمونږدَطرف نه تاسوسره امداد نشی کیدے یا زمونږدَعذاب نه تاسوبچ کیدے نشئ۔

[٦٦] دا ذکردَ سبب دَ عذاب دے اودا نوراحوال دَ منکرینوپه تفصیل سره ذکرکوی۔

[٦٧] په دے کښ ذکردَ درے حالاتودَ منکرینودے ﴿مُسْتَكْبِرِيْنَ بِهٖ﴾ یعنی لوئیی کوئے په نوروخلقو باندے په سبب دَ حرم مکه اوپه سبب دَ نزول دَ قرآن دَ دوی په قوم اوپه ملك کښ یا مراد دا دے چه لوئی کوئے دَ قرآن نه په اوله معنیٰ با سببیه ده اوپه دویمه معنیٰ با په معنیٰ دَ عن سره ده ﴿سٰمِرًا﴾ په معنیٰ دَ جمعے سره دے یعنی (قرآن نه اورئے) اوماسخوتن قصے کوئے۔ او دا عادات دَمشرکانو وؤدَ دے وجے نه حدیث دَ مسلم کښ منع شویده دَ ماسخوتن نه روستودَ خبرو کولونه (سیوا دَ دین دَ خبرونه یا دَخپل اهل سره خبرے کول) اوقرطبی روایت نقل کړیدے چه عمرؓ به دَ ماسخوتن نه روستوپه خبرو کولوباندے خلق وهل۔ یا سامراًپه معنیٰ دَ مفرد دے اوتقدیردَ عبارت دا دے تظنون به سَامِراً یعنی گمان کوئے تاسوپه دے نبی او قرآن باندے دَ قصه کو ﴿تَهْجُرُوْنَ﴾ دَ هجران نه دے یعنی پریږدئے تاسوقرآن او رسول لره یا دَ هجرنه دے یعنی بے فائدے خبرے کوئے چه هغے ته بکواس وئیلے کیږی۔

[٦٨] دا زجردے اوذکر دَ دوؤصفاتودَمنکرینو دے اودَ قول نه مراد قرآن کریم دے اوهم داسے په سورة نساء:(٨٢) اوسورة محمد:(٦٤) کښ دی اوپه دے کښ زورنه ده هغه خلقوته چه دَ قرآن تلاوت او

اَمْ لَمْ يَعْرِفُوْا رَسُوْلَهُمْ فَهُمْ لَهٗ مُنْكِرُوْنَ ﴿٦٩﴾ اَمْ يَقُوْلُوْنَ بِهٖ جِنَّةٌ ؕ بَلْ جَآءَهُمْ بِالْحَقِّ وَاَكْثَرُهُمْ
لِلْحَقِّ كٰرِهُوْنَ ﴿٧٠﴾ وَلَوِ اتَّبَعَ الْحَقُّ اَهْوَآءَهُمْ لَفَسَدَتِ السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ وَمَنْ فِيْهِنَّ ؕ بَلْ اَتَيْنٰهُمْ بِذِكْرِهِمْ
فَهُمْ عَنْ ذِكْرِهِمْ مُّعْرِضُوْنَ ﴿٧١﴾ اَمْ تَسْـَٔلُهُمْ خَرْجًا فَخَرَاجُ رَبِّكَ خَيْرٌ ۚ وَّهُوَ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ ﴿٧٢﴾ وَاِنَّكَ
لَتَدْعُوْهُمْ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿٧٣﴾ وَاِنَّ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ عَنِ الصِّرَاطِ لَنٰكِبُوْنَ ﴿٧٤﴾ وَلَوْ

ایا دوی نه پیژنی رسول خپل پس دوی هغه لره نا اشنا ګنړونکی دی (٦٩) ایا دوی وائی چه دهٔ باندے لیونتوب دے بلکه راوړے ئے دے دوی ته حق او اکثر د دوی نه حق لره بد ګنړونکی دی (٧٠) او که برابر وے حق دَ دوی دَ خواهشاتو سره خامخا خراب شوے به وے اسمانونه او زمکه او هغه څوك چه په دے کښ دی بلکه راوړے دے مونږ دوی ته یاداشت دَ دوی پس دوی دَ یاداشت خپل نه مخ ګرځوی (٧١) ایا ته غواړے دَ دوی نه آمدن پس امدنی دَ رب ستا غوره ده او هغه غوره رزق ورکوونکے دے (٧٢) او یقیناً ته خامخا دعوت ورکوے دوی لره نیغے لارے ته (٧٣) او یقیناً هغه کسان چه ایمان نه لری په اخرت باندے دَ لارے نیغے نه خامخا اوړیدونکی دی(٧٤) او که چرته

ختمونه کوی لیکن ځان په هغے باندے نه پوهه کوی ﴿اَمْ جَآءَهُمْ﴾ دا زجر دے یعنی نوے مسئله دوی ته راغلے ده نودوی دَ هغے نه انکارکوی لکه سورة ص (٧) کښ۔

[٦٩] دا زجردے اوذکردَ یوصفت دَ منکرینو دے یعنی دوی ضد اوعنادکوی ځکه چه دَ دے رسول صدق اوامانت داری دَ مخکښ نه پیژنی لیکن دَ ضد دَ وجے نه ئے نه منی یعنی ام کښ استفهام انکاری دے۔

[٧٠] دا هم زجردے اودوه صفتونه دَ منکرینو ئے ذکرکړیدی، نبی ته نسبت دَ جنون کول اوحق بدګنړل دَ وجے دَ حسد اودَ تقلید نه۔ داسے په تفسیر قرطبی کښ ذکردی۔

[٧١] دا هم زجردے په طریقه دَ دلیل سره مطلب ئے دادے که حق موافق شی دَ دوی دَخواهشاتوسره یعنی دوی چه معبودان من دون اللّٰه جوړکړیدی دا حق شی اودارنګ دوی چه کوم بدعات خرافات جوړکړیدی دا دین شی نودا به سبب شی دَ عالم دَ خرابیدلواودَ تباه کیدلودَپاره ځکه چه شرك اوبدعت سبب دَ فساد دَ عالم دے لکه په سورة انبیاء (٢٤) کښ اوپه دے ایت کښ یو صفت دَ دوی ذکرشویدے یعنی اعراض کول دَ ذکردَ توحید نه۔

[٧٢] دا جواب دَ وهم دے یعنی که اُوئیلے شی کیدے شی چه مانع دَ ایمان دَ دے منکرینودَ پیغمبردَ طرف نه به موجود وی لکه مزدوری غوښتل؟ نوجواب ئے ورکړو چه نبی دَ دوی نه هیڅ اجرنه دے طلب کړے فرق دَخرج اودَ خراج دا دے چه خرج هغه اجرت ته وائی چه مقررکړے شویوی اوخراج هغه اجردے چه په عطا اوبخشش سره حاصلیږی دَ دے وجے نه دَ اللّٰه تعالیٰ په جانب کښ خراج ذکرکړے شو۔

[٧٣] دا جواب دے دَ بل وهم، که اُوئیلے شی چه دَ دے نبی مقصد دَ دعوت به غلط وی ځکه دوی نه منی جواب او شو چه دَ هغه مقصد صحیح دے او په دے کښ ذکر دَ صدق رسول دے۔

[٧٤] په دے ایت کښ هم زجر دے او اخری صفت قبیحه دَ دوی ذکرکړلے شونومعلومه شوه چه دَ پیغمبردَ طرف نه هیڅ مانع اونقصان نیشته بلکه نقصان دَ دوی دَطرف نه دے او ایت کښ اشاره ده چه

رَحِمْنٰهُمْ وَكَشَفْنَا مَا بِهِمْ مِّنْ ضُرٍّ لَّلَجُّوْا فِيْ طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُوْنَ ﴿٧٥﴾ وَلَقَدْ اَخَذْنٰهُمْ بِالْعَذَابِ فَمَا اسْتَكَانُوْا
لِرَبِّهِمْ وَمَا يَتَضَرَّعُوْنَ ﴿٧٦﴾ حَتّٰۤى اِذَا فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَابًا ذَا عَذَابٍ شَدِيْدٍ اِذَا هُمْ فِيْهِ مُبْلِسُوْنَ ﴿٧٧﴾ وَهُوَ
الَّذِيْۤ اَنْشَاَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ وَالْاَفْـِٕدَةَ ؕ قَلِيْلًا مَّا تَشْكُرُوْنَ ﴿٧٨﴾ وَهُوَ الَّذِيْ ذَرَاَكُمْ فِي الْاَرْضِ وَاِلَيْهِ
تُحْشَرُوْنَ ﴿٧٩﴾ وَهُوَ الَّذِيْ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ وَلَهُ اخْتِلَافُ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿٨٠﴾ بَلْ قَالُوْا مِثْلَ مَا

رحم او کړو مونږ په دوی باندے اولړے کړو هغه چه په دوی باندے څه ضرر دے خامخا ورننوځی به دوی په سرکشئ خپله کښ پریشان به وی(۷۵)او یقیناً نیولی ژو مونږ دوی لره په عذاب سره پس تابعداری ئے اونکړه دَرب خپل اونه ئے ورته عاجزی اوکړه (۷۶) تر هغے پورے چه هر کله پرانزو مونږ په دوی باندے دروازه سخت عذاب والا دغه وخت دوی به په هغے کښ نا امیده وی (۷۷) او اللّٰه تعالیٰ هغه ذات دے چه پیدا کړیدی ستاسو دپاره غوږونه او سترګے او زړونه لږه غوندے شکریه کوئ تاسو (۷۸) او اللّٰه تعالیٰ هغه ذات دے چه خواره کړی ئے تاسو په زمکه کښ او خاص هغه ته به جمع کړے شئے تاسو (۷۹) او اللّٰه تعالیٰ هغه ذات دے چه ژوندی کول کوی او مړه کول کوی او خاص دَ هغه په اختیار کښ دی بدلیدل دَ شپے او دَ ورځے ایا پس عقل نه لرئ تاسو (۸۰) بلکه دوی وائی پشان دَ

کفربالاخرة سبب دے دَ اعراض دَ صراط مستقیم نه۔

[۷۶،۷۵] روستودَ زجرونونه تخویف دے په عذاب دنیوی سره چه هغه قحط او لوږه وه چه په مکے والاباندے دَ عذاب په شکل مسلّط شویوه لیکن دوی توبه دَ شرك نه اونه کړله اوهرکله چه عذاب دَ دوی نه لرے کړے شونو بنه سرکشی ئے شروع کړله۔

فائده: ﴿فَمَا اسْتَكَانُوْا﴾ استکانت خاص دَعذاب په وخت کښ وی یعنی توبه کول نوهغه په صیغه دَ ماضی سره ذکرکړے شواوتضرع په هر وخت کښ پکار وی یعنی روستودَ عذاب لرے کیدلونه توحید منل نو هغه په صیغه دَ مستقبل سره ذکر کړے شو۔

[۷۷] دا هم تخویف دنیوی یا اخروی دے ځکه چه دَعذاب نه مراد دنیوی عذاب دے لکه واقعه دَ بدریا فتح مکه او ﴿بَابًا﴾ نه مراد یوقسم اونوع دے یا دَ عذاب نه مراد جهنم دے اوبَاباً نه مراد دروازه دَ جهنم ده چه کله دوی جهنم ته اورسیږی نو دروازے دَ جهنم به دوی ته پرانستلے شی لکه چه سورة زمر(۷۱) کښ راغلی دی۔

[۷۸] دَ دے ځائے نه څلورم باب دے ترآخرَ سورة پورے په دے کښ شپږ عقلی دلیلونه دی درے دَ هغے نه دلیلونه محضه (بے اقراره) دی۔ بیا زورنه ده په انکارَ بعث بعد الموت نوبیا درے عقلی دلیلونه اعترافی (اقراروالا) دی دپاره دَ اثبات دَ توحید او قیامت۔ بیا رد دے په مشرکانوباندے بیا درے آداب دَ دعوت دی سرهٔ دَ تخویف دنیوی نه بیا تخویف دے په حالتِ برزخیه سره اومختصر بشارت دے بیا اووه حالات دَ عذاب دَ اخرت دی او اووه اسباب دَ هغے دی۔ بیا مسئله دَ توحید ده سرهٔ دَ اختتام نه په دُعا سره۔ په دے (۷۸) ایت کښ دلیل عقلی دے۔ اودَ لږشکرنه مراد اقرار دَ دے نعمت دے سرهٔ دَ شرك کولونه۔

[۷۹] دا بل دلیل عقلی دے اودارنګ په سورة ملك (۲۴،۲۳) کښ هم راغلی دی۔

[۸۰] دابل عقلی دلیل دے او په دے کښ ئے انقلاب دَ حالتونوذکرکړے دے اختلاف دَ شپے او دَ ورځے په

قَالَ الْاَوَّلُوْنَ ﴿۸۱﴾ قَالُوْٓا ءَاِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَّعِظَامًا ءَاِنَّا لَمَبْعُوْثُوْنَ ﴿۸۲﴾ لَقَدْ وُعِدْنَا نَحْنُ وَاٰبَآؤُنَا هٰذَا
مِنْ قَبْلُ اِنْ هٰذَآ اِلَّآ اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿۸۳﴾ قُلْ لِّمَنِ الْاَرْضُ وَمَنْ فِيْهَآ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۸۴﴾ سَيَقُوْلُوْنَ لِلّٰهِ ؕ
قُلْ اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ﴿۸۵﴾ قُلْ مَنْ رَّبُّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ ﴿۸۶﴾ سَيَقُوْلُوْنَ لِلّٰهِ ؕ قُلْ اَفَلَا
تَتَّقُوْنَ ﴿۸۷﴾ قُلْ مَنْۢ بِيَدِهٖ مَلَكُوْتُ كُلِّ شَيْءٍ وَّهُوَ يُجِيْرُ وَلَا يُجَارُ عَلَيْهِ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۸۸﴾ سَيَقُوْلُوْنَ لِلّٰهِ ؕ
قُلْ فَاَنّٰى تُسْحَرُوْنَ ﴿۸۹﴾ بَلْ اَتَيْنٰهُمْ بِالْحَقِّ وَاِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ﴿۹۰﴾ مَا اتَّخَذَ اللّٰهُ مِنْ وَّلَدٍ وَّمَا كَانَ مَعَهٗ

وینا دَ مخکښنو (۸۱) دوی وائی ایا کله چه مړه شو مونږ او خاورے شو مونږ او هډوکی شو ایا مونږ به دوباره ژوندی کیږو (۸۲) یقیناً وعده کړے شوے ده (زمونږ) او دَ مشرانو زمونږ سره دا وعده دَمخکښ راسے، نه دی دامګر دروغ قصے دَ مخکښنو خلقو دی (۸۳) ته اُوایه دَ چاپه اختیار کښ ده زمکه او څوك چه په دے زمکه کښ دی که چرے تاسو پوهه لرئے (۸٤) خامخا دوی به وائی اللّٰه تعالیٰ لره (اختیار دے) اُوایه ایا پس ولے نصیحت نه قبلوئ (۸۵) اُوایه څوك دے اختیارمند دَ اؤو اسمانونو اواختیارمند دَ عرش لوئے شان والا (۸٦) خامخا دوی به وائی اللّٰه تعالیٰ لره (اختیار دے) اُوایه ایا پس ځان نه ساتئ دَ شرك نه (۸۷) ته اُوایه دَ چاپه لاس کښ پوره بادشاهی دَ هر څیز ده اوهغه پناهی ورکوی دَ هر مصیبت نه او پناهی نشی ورکیدے دَ هغه په مقابله کښ که چرے تاسو پوهیږئے (۸۸) خامخا دوی به اُوائی اللّٰه تعالیٰ لره (اختیار دے) اُوایه پس څرنګ اړولے شئے تاسو (دَ حق نه) (۸۹) بلکه راوړے دے مونږ دوی ته حق او یقیناً دوی خامخا دروغ وائی (۹۰) نه دے نیولے اللّٰه تعالیٰ هیڅ څوئے اونیشته دَ هغه سره برابر

رنړا اوتیارے سره اوپه اوګډولو او لنډولو سره او په تلوراتلو سره مراد دے۔

[۸۳،۸۲،۸۱] په دے ایاتونوکښ زجر دے په انکار دَ بعث بعد الموت سره روستو دَ ذکرکولودَ دلیلونودَ قدرت نه۔ اوپه اَوَّلُوْنَ، کښ حواله ده دَ دے سورة په (۳۵) ایت باندے اوداسے ایاتونه په سورة نمل کښ (٦۸،٦۷) راغلی دی اووجه دَ فرق به هلته ذکرکړیشی۔

[۸۹،۸۸،۸۷،۸٦،۸۵،۸٤] په دے ایاتونوکښ عقلی دلیلونه اعترافی دی (یعنی په دے کښ اقرارد مشرکانوئے ذکرکړے دے اوپه دے کښ اثبات دَ توحید اودَ بعث بعد الموت دواړو دے) اوپه دے کښ احسن (خائسته) ترتیب دے ځکه چه اول دَ زمکے او دَ زمکے اوسیدونکو په باره کښ تپوس دے بیا پورته اووه اسمانونه اوبیا دَ هغے نه اوچت عرش ئے ذکرکړے دے۔ بیا دے ټولو ته عام شامل صفت دَ بادشاهئ اودَ تصرف ذکرکړیدے اوپه دے ټولودلیلونوکښ دَ تصرف او دَ واکدارئے دَ اللّٰه تعالیٰ ذکردے۔

فائده: دَ اول سره ئے تذکرکړے دے ځکه چه زمکه نزدیده دَ هغے نه یاداشت ښه حاصلیږی اودَ اسمانونو او عرش سره ئے تقویٰ ذکرکړیده ځکه چه اسمانونه اوعرش دلالت کوی په عظمت او هیبت شان باندے اودَ هغے سره تقویٰ مناسب ده۔ په دریم کښ ﴿تُسْحَرُوْنَ﴾ ئے سرهٔ دَ تعجب نه ذکرکړیدے یعنی چه بادشاهی اوپناهی دَ مصیبت نه ورکول اوعجزدَ ټول مخلوق دَ اللّٰه تعالیٰ دَمقابلے کولونه دا چه یوکس دَ اللّٰه تعالیٰ په صفت کښ منی اوبیا هم دَ هغه سره شریك جوړوی نودَ دغه کس دماغ خراب وی اومجنون وی۔

مِنْ اِلٰهٍ اِذًا لَّذَهَبَ كُلُّ اِلٰهٍۢ بِمَا خَلَقَ وَلَعَلَا بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ ؕ سُبْحٰنَ اللّٰهِ عَمَّا يَصِفُوْنَ ﴿۹۱﴾ عٰلِمِ الْغَيْبِ وَ
الشَّهَادَةِ فَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿۹۲﴾ ع قُلْ رَّبِّ اِمَّا تُرِيَنِّيْ مَا يُوْعَدُوْنَ ﴿۹۳﴾ رَبِّ فَلَا تَجْعَلْنِيْ فِي الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۹۴﴾

څوك واكدار دغه وخت به بوتللے وے هر اختيار مند هغه څيز لره چه دهٔ پيدا كړے وے او خامخا زور اور شوے به وے بعضے په بعضے باندے (يعنى په يوبل باندے) پاك دے الله تعالىٰ دَهغے نه چه دوى ئے بيانوى (۹۱) عالم دے په هريت اوښكاره باندے پس اوچت دے دَهغے نه چه دوى ئے دَ هغه سره شريكوى (۹۲) ته اُوايه اے ربه زما كه چرے ته ښائے ماته هغه عذاب چه دوى سره ئے وعده كيدے شى (۹۳) اے ربه پس مه كړځوے ماله په قوم ظالمانو كښ (۹٤)

فائده: هركله چه رب (په دويم دليل كښ) په معنىٰ دَ تصرف كوؤنكى دے نومراد دادے چه تصرف دَ اسمانونواودا عرش چا دپاره دے نودَ دے وجے نه په جواب كښ لام په لِلّٰه كښ ذكر كړے شو۔

[۹۰] دا زجردے يعنى قرآن كښ ذكردَ توحيد اواثبات دَبعث بعد الموت حق مسئله ده ليكن دوى چه الله تعالىٰ لره شريك يا ولد منى اودَبعث نه انكاركوى نودا دروغ دى۔

[۹۱] دا بيان دَ هغه حق دے چه محكښ ايت كښ ئے ذكر كړو او رد دے په عقيده دَ اتخاذ ولد (چه ادنىٰ شريك وى) اورد دے په هغه شريك چه دَ الله تعالىٰ سره ئے په صفت دَ تصرف يا په حق دَ الوهيت كښ برابركنړى۔ اوحاصل دَ دليل دا دے چه اِله مستقل اختيار والاته وائى نوكه بل څوك اله وے نوهغه به پيدائش كړے وے اوبيا به ئے خپل مخلوق دَ بل نه ضرور جداكولے دَپاره دَ دے چه مستقل تصرف پكښ اوكړى اوپه دغه وخت به ئے دَ بل اِله په برخه باندے ضرور غلبه اوتسلط كولے اوجگړه به ئے ورسره كولے څكه چه يو اِله دَ بل اِله حق اوتصرف نه منى څكه چه دَ دهٔ په الوهيت كښ نقص راځى اوهركله چه يو غلبه په بل باندے كولے نوهغه مغلوب اِله نشى كيدے۔ اودا دليل يقينى قطعى دے لكه چه دَ دے تفصيل سورة انبياء:(۲۲) كښ تيرشويدے ﴿عَمَّا يَصِفُوْنَ﴾ اشاره ده دَ نسبت دَ ولد اودَشريك الله تعالىٰ ته څكه ولديت اوشركت صفات دى۔

[۹۲] هركله چه محكښ دليلونوكښ تصرف دَ الله تعالىٰ ذكرشويوؤ نوپه دے ايت كښ صفت دَ علم دَ هغه ذكركوى او ورسره تفريع ده په دے دليل باندے په رد دَ شرك۔ تسبيح دَ صفاتوسره تعلق لرى اوعلو دَ ذات سره تعلق لرى دَ دے وجے نه دَ اول سره يصفون اودويم سره يشركون ذكر كړيدے۔

[۹٤،۹۳]په دے اياتونوكښ عذاب دنيوى ته اشاره ده دپاره دَمشركانواودارنګ تعليم دَيوادب دَ دُعا دے دعوت كوؤنكى ته ﴿فَلَا تَجْعَلْنِيْ فِي الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ﴾ كښ مراد دا دے چه مَا دَ سبب دَ عذاب دَ دوى نه بچ اوساتے چه هغه شرك اوظلم دے اوحديث دَ ترمذى كښ هم دَ دے پشان دُعا ذكر كړيده، واذا اردتَّ فِي الناس فتنةً فاقبضنى اليك غيرمفتونٍ۔

وَاِنَّا عَلٰٓى اَنْ نُّرِيَكَ مَا نَعِدُهُمْ لَقٰدِرُوْنَ ﴿٩٥﴾ اِدْفَعْ بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ السَّيِّئَةَ ؕ نَحْنُ اَعْلَمُ بِمَا يَصِفُوْنَ ﴿٩٦﴾ وَقُلْ رَّبِّ اَعُوْذُ بِكَ مِنْ هَمَزٰتِ الشَّيٰطِيْنِ ﴿٩٧﴾ وَاَعُوْذُ بِكَ رَبِّ اَنْ يَّحْضُرُوْنِ ﴿٩٨﴾ حَتّٰٓى اِذَا جَآءَ اَحَدَهُمُ الْمَوْتُ قَالَ رَبِّ ارْجِعُوْنِ ﴿٩٩﴾ لَعَلِّيْٓ اَعْمَلُ صَالِحًا فِيْمَا تَرَكْتُ كَلَّا ؕ اِنَّهَا كَلِمَةٌ هُوَ قَآئِلُهَا ؕ وَمِنْ وَّرَآئِهِمْ بَرْزَخٌ

او یقیناً په دے خبره باندے چه اوخایو مونږ تاته هغه چه دوی سره ئے وعده کڅو خامخا قدرت لرونکی یو (۹۵) د فع کوه په هغه طریقه چه خائسته ده بدئ لره مونږ ښه پوهیږو په هغه خبرو چه دوی ئے بیانوی (۹۶) اوته اُوایه اے ربه زما پناهی غواړم په تاسره دَ وسوسو (تیزۈونکو) دَ شیطانانو نه (۹۷) اوپناهی غواړم په تاسره اے ربه زما دَ حاضریدلو دَ دوی نه ماته (۹۸) (دوی به مخالفت کوی) ترهغے وخت پورے چه راشی یوتن دَدوی ته مرګ وائی به اے ربه زما واپس کړے مالره (۹۹) د پاره دَ دے چه عمل اوکړم نیك عمل په بدله دَ هغے کښ چه ماپریخودلی دے (اوبه وئیلے شی ورته) هیڅرے نه کیږی یقیناً دایو خبره ده چه دے وائی هغے لره او دَ دوی مخے ته لویه پرده ده

[۹۵] په دے کښ دلیل دَ عذاب دَ راتلوذکرکړے دے چه ستا په ژوند کښ په عذاب راوستلو باندے اللّٰه تعالیٰ قدرت لری۔

[۹۶] په دے ایت کښ دَ داعی دپاره دویم ادب علمی دے﴿بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ﴾ نه مراد دعوت دَتوحید اوسنت دے او ﴿السَّيِّئَةَ﴾ نه مراد شرك او بدعات او نورګناهونه دی او دارنګ مراد دَ بِالَّتِي هِيَ اَحسَنُ نه خائسته اخلاق دی لکه صبراوتحمل اوعفوکول اوسَيِّئَةَ نه مراد دَ مخالف دَ طرف نه ظلم کول، کنځل کول وغیره دی اودارنګ بِالَّتِي هِيَ اَحسَنُ نه مراد دُعا ده چه مخکښ ایت کښ تیره شوه اوسیئة نه مراد عذاب دے۔

[۹۷،۹۸] په دے ایاتونوکښ دریم ادب دے په طریقه دَ دُعا سره اودَ هَمَزَاتِ نه مراد دَ شیاطینوهغه وسوسے دی چه دَ خلقوپه سینوکښ په باره دَ دعوت کوونکی کښ اچوی دے دپاره چه هغوی دا دعوت قبول نه کړی او﴿اَنْ يَّحْضُرُوْنِ﴾ نه مراد دا دے چه شیطان داعی ته حاضر شی دَهغه په زړه کښ ریا، تکبر او غضب وغیره واچوی اودعوت ته نقصان اورسیږی۔

[۹۹] دا ایت تعلق لری دَ(۹۰) سره اوتخویف دے یعنی دوی شرك اوکفرکښ مشغول دی ترمرګ پورے بیا په وخت دَ مرګ کښ ارمانونه کوی دَ واپس کیدلودنیا ته ﴿اِرْجِعُوْنِ﴾ ئے جمع صیغه ذکرکړیده دپاره دَ تعظیم دَ رب تعالیٰ یا داجمع دَپاره دَتکرار ده یعنی زر زر وائی چه ماواپس کړه اودا وینا په وخت دَیقین دَمرګ کښ ده اوداسے قول دَمؤمن ګنهګارهم دے لکه سورة منافقون (۱۰) کښ۔ یا داوینا په عالم برزخ کښ ده پس دَ مرګ نه اوداسے ایاتونه په ډیرو سورتونوکښ دی سورة اعراف (۵۳) سورة ابراهیم (٤٤) سورة انعام (۲۷) سجده (۱۲) مؤمن (۱۱) فاطر(۳۷) شوریٰ (٤٤) بعضے په وخت دَ نزع کښ او بعضے په وخت دَنشورکښ اوبعضے په قبرکښ او بعضے په وخت دَ پیښئے کښ اللّٰه تعالیٰ ته یا اورته۔

اِلٰى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ ﴿١٠٠﴾ فَاِذَا نُفِخَ فِي الصُّوْرِ فَلَآ اَنْسَابَ بَيْنَهُمْ يَوْمَئِذٍ وَّلَا يَتَسَآءَلُوْنَ ﴿١٠١﴾ فَمَنْ ثَقُلَتْ
مَوَازِيْنُهٗ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿١٠٢﴾ وَمَنْ خَفَّتْ مَوَازِيْنُهٗ فَاُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ فِيْ
جَهَنَّمَ خٰلِدُوْنَ ﴿١٠٣﴾ تَلْفَحُ وُجُوْهَهُمُ النَّارُ وَهُمْ فِيْهَا كٰلِحُوْنَ ﴿١٠٤﴾ اَلَمْ تَكُنْ اٰيٰتِيْ تُتْلٰى عَلَيْكُمْ فَكُنْتُمْ
بِهَا تُكَذِّبُوْنَ ﴿١٠٥﴾ قَالُوْا رَبَّنَا غَلَبَتْ عَلَيْنَا شِقْوَتُنَا وَكُنَّا قَوْمًا ضَآلِّيْنَ ﴿١٠٦﴾ رَبَّنَآ اَخْرِجْنَا مِنْهَا فَاِنْ

ترهغه ورځ پورے چه دوی به دوباره ژوندی کولے شی (١٠٠) پس هر کله چه پوکے اوکړے شی په شپیلئ کښ پس نه به وی نسبونه په مینځ دَ دوی کښ په دغه ورځ اونه به دوی تپوسونه کولے شی دَیوبل نه (١٠١) پس هغه څوك چه درانه شی عملونه دَ هغوی نو دغه کسان بس دوی بچ دی دَعذاب نه (١٠٢) او هغه څوك چه سپك وی عملونه دَهغوی نودا هغه کسان دی چه تاوانی کړیدی ځانونه خپل په جهنم کښ به دوی همیشه وی (١٠٣) سوزوی به مخونه دَ دوی لره اور او دوی به په هغے کښ بدشکله وی (١٠٤) ایا نۀو ایاتونه زما چه لوستلے کیدل په تاسو باندے پس تاسو وئے چه دروغژن کول هم هغے لره (١٠٥) دوی به اُوائی اے ربه زمونږه غالبه شوے وه په مونږ باندے بدبختی زمونږه او مونږه ډو یوډله بے لارے (١٠٦) اے ربه زمونږه اوباسه مونږه دَ دے نه پس که

[١٠٠] په دے کښ مقصد دَ واپسئے ذکرکوی اوعمل صالح شامل دے توحید اوسنت ته۔ په کَلّا سره دَ هغه جواب دے یعنی هیڅ کله نشی واپس کیدے او دوی هیڅرے عمل صالح نه کوی لکه سورة انعام (٢٨) کښ تیرشویدی اوبیائے دَ واپس راتللونه مانع ذکرکړو چه هغه برزخ دے اوهغه په اصل کښ مانع او پَردے ته وائی اوهغه وخت چه دَ مرګ نه تردوباره ژوند پورے دے هغے ته عالم برزخ وئیلے شی که روح په علیین کښ وی اوکه په سجین کښ وی اوبدن که په قبرکښ وی، اوکه بل ځائے کښ وی، روغ وی، اوکه ذرے ذرے وی نوهغے ته برزخ وئیلے کیدیشی دا برزخ غیر محسوسی دے لکه برزخ په مینځ دَبحرین کښ په سورة رحمن (٢٠) کښ هغه هم محسوسی نه دے ابن کثیرد ابوصخرنه نقل کړیدے چه دوی نه په دنیاکښ دی اونه په اخرت کښ دی۔

[١٠١] دَ دے ایت نه تخویف اخروی شروع دے اومراد دَ صُورنه دویمه شپیلئے ده ﴿فَلَآ اَنْسَابَ﴾ نه مراد دا دے چه نسبونه فائده نشی ورکولے بلکه دَیوبل نه به تیخته کوی لکه سورة عبس (٣٥) کښ ﴿وَلَا يَتَسَآءَلُوْنَ﴾ که اعتراض اوکړیشی چه سورة صافات (٢٧) کښ تسائل ذکر دے نودے ایت کښ دَ هغے نفی څنګه اوشوه۔ اول جواب دا دے چه دَ قیامت حالات مختلفه دی بعضے حالاتو کښ کولے شی۔ دویم جواب دا دے چه دے ایت کښ اوله شپیلئ مراد ده، په دغه وخت به تساء ل نشی کولے اودَ دویمه شپیلئے نه روستوبه کولے شی داتفسیر قرطبی کښ دَ ابن عباس﷜ نه نقل کړیدی، دریم جواب دا دے چه دَ یوبل نه دَ رحم کولوپه باره کښ هیڅ نشی غوښتلے او دَ زورنے تپوسونه به کوی۔

[١٠٢] دا مختصر بشارت دے اومراد دَ ﴿مَوَازِيْنُهٗ﴾ نه عملونه دی او ﴿ثَقُلَتْ﴾ نه مراد موافقت دَ هغے دے دَکتاب اللّٰه او سنت رسول سره داسے په سورة اعراف (٨) کښ تیرشویدی۔

[١٠٣ نه ١١٥] پورے په دے ایاتونو کښ اووه احوال دَ عذاب اواووه اسباب دَ عذاب ذکرکړیدی هغه

عُدْنَا فَاِنَّا ظٰلِمُوْنَ ﴿۱۰۷﴾ قَالَ اخْسَـُٔوْا فِيْهَا وَلَا تُكَلِّمُوْنِ ﴿۱۰۸﴾ اِنَّهٗ كَانَ فَرِيْقٌ مِّنْ عِبَادِيْ يَقُوْلُوْنَ
رَبَّنَآ اٰمَنَّا فَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا وَاَنْتَ خَيْرُ الرّٰحِمِيْنَ ﴿۱۰۹﴾ فَاتَّخَذْتُمُوْهُمْ سِخْرِيًّا حَتّٰٓى اَنْسَوْكُمْ
ذِكْرِيْ وَكُنْتُمْ مِّنْهُمْ تَضْحَكُوْنَ ﴿۱۱۰﴾ اِنِّيْ جَزَيْتُهُمُ الْيَوْمَ بِمَا صَبَرُوْٓا اَنَّهُمْ هُمُ الْفَآئِزُوْنَ ﴿۱۱۱﴾ قٰلَ
كَمْ لَبِثْتُمْ فِي الْاَرْضِ عَدَدَ سِنِيْنَ ﴿۱۱۲﴾ قَالُوْا لَبِثْنَا يَوْمًا اَوْ بَعْضَ يَوْمٍ فَسْـَٔلِ الْعَآدِّيْنَ ﴿۱۱۳﴾ قٰلَ اِنْ لَّبِثْتُمْ
اِلَّا قَلِيْلًا لَّوْ اَنَّكُمْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۱۱۴﴾ اَفَحَسِبْتُمْ اَنَّمَا خَلَقْنٰكُمْ عَبَثًا وَّاَنَّكُمْ اِلَيْنَا لَا تُرْجَعُوْنَ ﴿۱۱۵﴾ فَتَعٰلَى اللّٰهُ

مونږ واپس شو (کمراهئ ته) نو یقیناً مونږبه ظالمان یو (۱۰۷) اوبه وائی اللّٰه تعالیٰ کورے شئے (اے سپو) په جهنم کښ او ماسره خبرے مه کوئے (۱۰۸) یقیناً وه یو ډله دَ بندګانو (مؤحدینو) زمانه هغوی به وئیل اے ربه زمونږه ایمان راوړے دے مونږ نو بخښنه اوکړے مونږ ته اورحم اوکړے په مونږ باندے اوته ئے غوره دَ رحم کؤونکونه (۱۰۹) پس ګرځول تاسو هغوی لره سپك سپور تردے چه غافل ئے کړئ تاسو دَ توحید زمانه او وئے تاسو چه په هغوی پورے موخنداکوله (۱۱۰) یقیناً بدله ورکړه ما هغوی ته نن ورځ په وجه دَ صبر دَ دوی چه یقیناً دوی خاص دوی کامیاب دی (۱۱۱) اوبه وائی اللّٰه تعالیٰ څومره وخت تیرکړے ؤو تاسو په زمکه کښ په شمار دَ کلونو سره (۱۱۲) دوی به وائی تیره کړے ده مونږ یو ورځ یا پکړه دَ ورځے پس تپوس اوکړه دَ شمار کوؤنکونه (۱۱۳) اوبه وائی اللّٰه تعالیٰ نه دے تیر کړے تاسو مګر لږ وخت که چرے تاسو پوهیدلے (۱۱٤) ایا پس ګمان کړے دے تاسو چه یقیناً پیدا کړی ئے مونږ تاسو بے فائدے او یقیناً تاسو به مونږ طرف ته راګرځولے نشئ (۱۱۵) پس اوچت دے اللّٰه تعالیٰ

په فکراوتدبرسره معلومیږی ﴿كٰلِحُوْنَ﴾ دَ دے بدشکلئی تفصیل په حدیث دَ ترمذی کښ ذکرشویدے چه مخونه به دَ دوی په اورکښ اوسوزی نوبره شونډه به ئے دَسرمینځ پورے اورسیږی اولاندے شونډه به ترنامه پورے اورسی اوغابنونه به ئے بشکاریږی ﴿شِقْوَتُنَا﴾ دَ دے نه مراد خواهشات اومزے دَ دنیا دی چه سبب دَبدبختئ دے یامراد دَ دے نه تقدیری شقاوت دے ﴿اخْسَـُٔوْا﴾ عرب داکلمه دَ سپودَشړلودپاره ذکرکوی، نوپدے کښ اشاره ده چه دَ دوی حال به دَ سپو پشان شی یا دا چه دنیاکښ دوی دَ سپوپشان مؤحدین (دعوت کوؤنکی) دارڼ اوچیچل اوپه هغوی پسے ئے غپل۔ لکه روستو ایت کښ ذکرکوی چه تاسو مؤحدینوپورے مسخرے اوخنداکوله اومراد دَ ﴿فَرِيْقٌ مِّنْ عِبَادِيْ﴾ نه هغه کسان دی چه په هغوی کښ هغه صفتونه وؤچه دَ دے سورة په ابتداء اومینځ کښ ذکرکړے شویدی اوسرهٔ دَ دے نه دوی دَ اللّٰه تعالیٰ نه مغفرت او رحم غواړی ﴿وَكُنْتُمْ مِّنْهُمْ تَضْحَكُوْنَ﴾ لکه چه سورة تطفیف (۲۹) کښ ذکردی ﴿فَسْـَٔلِ الْعَآدِّيْنَ﴾ دَ دے نه مراد حساب دان خلق دی یا ملائك، کِراماً کَاتِبین دی یعنی دَ دیرهیبت اوحیرانتیا دَ وجے نه دَاصل جواب نه غافل دی ﴿اَفَحَسِبْتُمْ﴾ دازورنه هم په اخرت کښ به وی۔ یا دا دَ سرنه خبره ده او زورَنه ده منکرینو دَ توحید اودَ بعث ته۔

اَلْمَلِكُ الْحَقُّ ۚ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ رَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيْمِ ﴿١١٦﴾ وَمَنْ يَّدْعُ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ ۙ لَا بُرْهَانَ لَهٗ بِهٖ ۙ
فَاِنَّمَا حِسَابُهٗ عِنْدَ رَبِّهٖ ۭ اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الْكٰفِرُوْنَ ﴿١١٧﴾ وَقُلْ رَّبِّ اغْفِرْ وَارْحَمْ وَاَنْتَ خَيْرُ الرّٰحِمِيْنَ ﴿١١٨﴾ ع

بادشاه دے حق دے نیشته حق دار دَبندګئے سیوا دَ هغه نه رب دے دَ عرش عزت مند (١١٦) او چاچه رامدد شه اُوئیل دَ اللّٰه تعالیٰ سره بل مددګار ته (چه اله ئے ګڼړی) نیشته دلیل دهٔ لره په هغے باندے پس یقیناً پوره حساب دَ دهٔ دَرب دَ دهٔ سره دے یقیناً نشی بچ کیدلے کافران (١١٧) او اُوایه ته اے ربه زما بخښنه اوکړے او رحم اوکړے اوته غوره دَ رحم کوونکو نه ئے (١١٨)

[١١٦] دا دلیل دے دَ مخکښ ایت یعنی اللّٰه تعالیٰ عبث کارنه کوی هغه دَعبث کارونونه لوئے دے یاتفریع ده په ټول سورة باندے یعنی هرکله چه دَ سورة په ابتداکښ ذکرکړو ﴿فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ﴾ اونورتصرفات اودلیلونه ئے دَ ربوبیت اوالوهیت ذکرکړو اواثبات دَ بعث بعد الموت ئے ذکرکړو نودَ هغے نتیجه ئے ذکرکړه چه معلومه شوه چه اللّٰه تعالیٰ لوئے دے اوپاك دے دَ شریکانونه اودَ عبث کارونونه اوورپسے ځلورصفات دَ اللّٰه تعالیٰ ذکرکړل دَپاره دَ دلیل ﴿الْكَرِيْمِ﴾ عرش دَ اللّٰه تعالیٰ کریم دے ځکه چه ټول نعمتونه رحمتونه دَ هغے نه نازلیږی۔ اودارنګ کریم دے یعنی دَ هغے مقابله ځوك نشی کولے اوعزت ئے نشی کمه ولے، اوکریم په معنیٰ دَ ځانښته هم دے۔

[١١٧] دا تفریع ده په مخکښ ایت باندے په رد دَ شرك فی الدعاء سره ﴿لَا بُرْهَانَ﴾ داقید واقعی دے یعنی په شرك باندے هیڅ دلیل نیشته ﴿فَاِنَّمَا حِسَابُهٗ عِنْدَ رَبِّهٖ﴾ اشاره ده غټ والی دَسزا دَ شرك ته اواشاره ده چه دهٔ ته بخنه نه کیږی ﴿اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الْكٰفِرُوْنَ﴾ دا اجمالی حساب ئے ذکرکړواوپه دے کښ تصریح ده چه دعادَ غیراللّٰه کفردے اودا جمله دَ سورة دَ ابتداء په مقابله کښ ده چه ﴿قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ﴾ یعنی فلاح په کفر سره نیشته بلکه فلاح خاص ده په ایمان پورے۔

[١١٨] دا امردے نبی ﷺ ته په دُعا سره دپاره دَ اُمتیانوچه دَکفراودَ شرك نه ئے ځان بچ کړیدے اوهغه مؤمنان دی چه دَ هغوی صفتونه دَ سورة په اول کښ بیان شول نوپه آخرکښ دَهغوی دَپاره دُعا دَ نبی ذکر شوه۔

سُوْرَةُ النُّوْرِ مَدَنِيَّةٌ (۱۰۲) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۶۴ رُكُوْعَاتُهَا ۹

سُوْرَةٌ اَنْزَلْنٰهَا وَفَرَضْنٰهَا وَاَنْزَلْنَا فِيْهَا اٰيٰتٍۢ بَيِّنٰتٍ لَّعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ ۝۱ اَلزَّانِيَةُ وَالزَّانِيْ فَاجْلِدُوْا كُلَّ
وَاحِدٍ مِّنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ ۖ وَّلَا تَاْخُذْكُمْ بِهِمَا رَاْفَةٌ فِيْ دِيْنِ اللّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ۚ

داسورت دے (لوئے شان والا) مونږ دا نازل کړے دے او فرض کړے دے مونږ (عمل کول په دے باندے) او نازل کړی دی مونږ په دے کښ حکمونه ښکاره دَ دے دپاره چه یاد کړئے حکمونه دَ اللّٰه تعالیٰ (۱) زنا کاره زنانه او زنا کار سړے پس اُوهیے هر یو دَ دے دواړو نه سل سل درے اونه دے نیسی تاسو لره په دے دواړو باندے ترس کول په جاری کولو دَ دین دَ اللّٰه تعالیٰ کښ که چرے ئے تاسو چه ایمان لرئے په اللّٰه تعالیٰ او په ورځ روستنئے باندے

سورة النور

ربط: دَ مخکښ سورة سره دادے (۱) مخکښ سورة کښ منع کول دَ مؤمنانودی دَ اوصاف المشرکین نه نو په دے سورة کښ دَ صفاتودَمنافقینونه منع کول کوی (۲) مخکښ سورة کښ مسئله دَ توحید په دلائل نقلیواوعقلیوسره ثابت کړه نوپه دے سورة کښ منع کول کوی دَ اسبابودَ طعن نه په مؤحد باندے چه دَ هغے دَ وجے نه منافقان بدنامے لګوی په مؤمن باندے۔

دعویٰ دَ سورة : دروازه دَ فحشاء اوتهمتونو بندول په منع کولوسره دَ هغے دَ اسبابونه اوپه ذکرَ دَ اداسره په وخت دَ تهمت لګیدلوکښ، اوپه ذکرَ دَ پیرو زجرونواوتخویفاتو دَپاره دَ تهمت لګوڼکو۔ اوپه ذکر دَ صفات دَ مؤمنانو او دَ منافقینو دپاره دَ تمیزاودَ فرق۔ اودعوت دے توحید ته په ذکرَ دَ مثالونوسره اوپه ذکرکولودَ عقلی دلیلونواوپه رد سره په اقسامو دَ شرك چه شرك فی العلم اوفی التصرف اوفی العبادة دے ۔ اوپنځلس اسماء حسنیٰ دَ اللّٰه تعالیٰ۔ تفسیر قرطبی کښ لیکلی دی مقصد دَ دے سورة احکام دَستراودَ پاکدامنئے دی اوعمرﷺ کوفے والاته لیکلی وؤ چه ځپلو زنانوته دا سورة اوښائے۔

خلاصه دَ سورة: دے تقسیم دے پنځوبابونوته۔ اول باب تر(۱۰) پورے دے په دے باب کښ اول ترغیب دے دَ راتلونکو حکمونو منلوته اودا مأخذ دے دَ دعویٰ دَ سورة بیا ځلوراحکام ئے ذکرکړی دی دپاره دَ بندولودَ فحش کارئے اولسم ایت کښ ترغیب دے۔

تفسیر

[۱] په دے اول ایت کښ ترغیب دے دَ دے سورة په عظمت شان ذکرکولو سره په یوځو وجو سره اول یعنی دا دَ قرآن اوچت شان والاتګړه ده دویم دا چه نازل کړے شویده دریم داچه په دے باندے عمل کول اللّٰه تعالیٰ فرض کړیدی ځلورم داچه دَ دے حکمونه واضح اوښکاره دی۔ پنځم داچه په دے کښ دَ تذکراونصیحت اخستلوفائده ده۔

وَلْيَشْهَدْ عَذَابَهُمَا طَآئِفَةٌ مِّنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ۝۲ اَلزَّانِيْ لَا يَنْكِحُ اِلَّا زَانِيَةً اَوْ مُشْرِكَةً ۫ وَّالزَّانِيَةُ لَا يَنْكِحُهَآ اِلَّا زَانٍ اَوْ مُشْرِكٌ ۚ وَحُرِّمَ ذٰلِكَ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ ۝۳ وَالَّذِيْنَ يَرْمُوْنَ الْمُحْصَنٰتِ ثُمَّ لَمْ يَاْتُوْا بِاَرْبَعَةِ

او حاضر دِ شی عذاب دَ دے دواړو ته یو ډله دَ مؤمنانونه (۲) زنا کار سړے نکاح نه کوی مګر دَ زنا کارے یامشرکے زنانه سره اوزناکاره زنانه نکاح نه کوی دَهغے سره مګر زنا کار یا مشرك سړے او حرام کړے شویدے داکار په مؤمنانو باندے (۳) او هغه کسان چه بدنامه لګوی(په زناکارئے سره) په پاکدامنو نفسونو باندے بیا رانوړی ځلور

[۲] په دے کښ اول حکم دے دَ فحش دَ بندولوپه جاری کولودَحد دَ زنا په سل دورو وهلوسره اوظاهرد ایت نه دا ده چه هرزناکارسړے او زنانه که نکاح او واده ئے کړے وی اوکه نه وی کړے په هغوی باندے سل دورے وهل دی اوبیا دَ حدیث صحیح په وجه سره په وادهٔ شوؤ باندے ورسره رجم دے سرهٔ دَ اختلاف دَ اهل علم نه اوپه غیر وادهٔ والوباندے دَ یوکال دپاره بهردَ ملك نه شړل دی سرهٔ دَ اختلاف دَعلماؤنه۔ او زانی زانیه ورته هله وئیلے کیدے شی چه زنائے ثابت شی په اقراریاپه شرعی شهادت سره او﴿اَلزَّانِيَةُ﴾ دَ دے وجے نه ئے مخکښ کړیدے چه دَ زناکولوسبب اکثردَ زنانه دَ طرف نه وی اوبله وجه داچه زناکول په زنانه کښ ډیرشرم اوډیرنقصان دے ﴿فَاجْلِدُوْا﴾ کښ عام خطاب دے مسلمانانو ته ځکه دا نظام قائمول په ټولو مسلمانانوباندے واجب دی یادا خاص خطاب دے اُمراؤدَ مسلمانانوته نودا دلیل دے چه اسلامی خلافت قائم کول په مسلمانانوباندے.فرض دی ﴿وَلَا تَاْخُذْكُمْ﴾ دَ دے مراد داچه دَ اللّٰه تعالیٰ په دے حکم نافذکولو کښ دَ زناکاروسره هیڅ نرمی اورعایت کول جائزنه دی یعنی دَ سلو دورونه کم وهل یاپه دمه وهل یامعاف کول نه دی پکار﴿وَلْيَشْهَدْ عَذَابَهُمَا﴾ دادَ دے دَپاره چه عام خلق هم عبرت واخلی اوبل دَ دے دَپاره چه دامجرمان هم بنه اوشرمیږی۔اوداحکم په ټولوحدودو اوقصاص کښ دے چه دَخلقوپه وړاندے وی دَپاره دَعبرت اخستلو﴿طَآئِفَةٌ﴾ یوشخص ته هم وئیلے کیږی اودَ زیاتوځه حد نیشته۔

[۳] په دے ایت کښ دویم حکم دے دَ فحش کارئے دَ بندولو اومقصد دَ دے نفرت کول دَ مؤمنانو دَ زنا اودَ اهل زنانه دی اودَ هغوی نه تعلق قطع کول لکه څنګه معامله چه دَشرك والا سره کوی۔

فائده: په دے ایت کښ اشکال دَ دوؤ وجونه دے ۔اوله وجه داده چه دَ ایت ظاهر داد ے چه زانی نکاح نه کوی مګرصرف دَ زانیے اومشرکے سره یعنی دَ دهٔ بښځه به یازانیه وی یا مشرکه وی اوحال دا دے چه داسے ډیر زناکارسړی دی چه بښځے ئے پاکدامنے وی اوډیر زناکارے بښځے وی چه خاوندان ئے پاك وی۔ دویم اشکال دا دے چه دَ﴿وَحُرِّمَ ذٰلِكَ﴾ ظاهری معنیٰ دا ده چه نکاح دَ زناکاروسره په مؤمنانوباندے حرام دے اوحال دادے چه مشهور قول دَ علماء دین دا دے چه نکاح دَ زناکارے دَ مؤمن سره جائزدے په دلیل دَ عام ایاتونودَ نکاح سره چه احل لکم ماوراء ذالکم او وانکحوا لایامی منکُم۔ جواب دا دے چه په دے ایت کښ دَ مفسرینوډیراقوال دی بعضودا ایت خاص کړیدے په معیّن مؤمنانو(اصحاب صفّه) پورے اوبعضوخاص کړے دے معیّن بدکارو بښځو پورے لیکن تخصیص دَ ایت کمزورے قول دے ځکه چه قوی دلیل ئے نیشته اودَ اکثرمفسرینوپه نیز ایت عام دے لیکن دَ بعضوپه نیزتوجیه دا ده چه پدے ایت کښ نفی په

شُهَدَآءَ فَاجْلِدُوْهُمْ ثَمٰنِيْنَ جَلْدَةً وَّلَا تَقْبَلُوْا لَهُمْ شَهَادَةً اَبَدًا ۚ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ۙ﴿۴﴾ اِلَّا الَّذِيْنَ
تَابُوْا مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ وَاَصْلَحُوْا ۚ فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۵﴾ وَالَّذِيْنَ يَرْمُوْنَ اَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُنْ لَّهُمْ

گواهان نو اؤهئے دوی لره اتیا درے او مه قبلوئے دوی لره گواهی هیڅ چرے اودغه کسان دوی نافرمان دی (٤) مګر هغه کسان چه توبه اوکړی روستو دَ دے کارنه او نیك کړی عملونه پس یقیناً اللّٰه تعالیٰ بخنه کؤونکے رحم کؤونکے دے (٥) او هغه کسان چه بدنامه لګوی په بیبیانو خپلو باندے (په نسبت دَزنا سره) اونه وی دوی لره

معنیٰ دَ انکار ده او ایت منسوخ دے اودَ بعضوپه نیزپه آیت کښ عادت اکثریه دَ بدکارو ذکرکوی چه په قرینه دَ الخبیثات للخبیثین۔ اوپه دے توجیه سره جائزده که نکاح په معنیٰ دَ عقد سره اوکه په معنیٰ دَجماع سره شی۔ اوذٰلِكَ اشاره ده دے عادت نیولوته اودا روستنئے توجیه غوره ده اودَ دے مقصد دا دے چه زناپر قبیح عمل دے اثرئے په دواړو طرفونوباندے یوشان دے یعنی په دے عمل سره معلومیږی چه دابل جانب هم زناکار دے که دے عمل ته ګناه وائی اوکوی ئے یا دابل جانب مشرك دے کله چه داعمل جائزګنړی نودلالت کوی په خباثت دَ دواړو طرفونوباندے دَ دے وجے نه زانی دَ خپلے ښځے په زنانه خفه کیږی اوهغه ته دیوث وئیلے کیږی اوپه حدیث کښ په هغه باندے دَجنت حرمت ذکردے۔ نوحاصل دا دے چه زناکارو به دَ یوبل سره تعلق وی دَنکاح اودَ غیرنکاح لیکن مؤمنانولره دَ دوی سره تعلق لرل حرام دی یعنی دَ دوی نه دِ برائت اوکړی اودَ دوی سره دِ دوستانه نه لری دَپاره دَ دے چه دوی داخباثت پریږدی یا دَ معاشرے دَ پاکانونه جداشی۔

[٤] په دے ایت کښ دریم حکم دے دَپاره دَ بندولو دَ استعمال دَ لفظ دَ فحش کارئے روستودَ بندولودَ عمل دَ هغے نه اودے ته حد (سزا) قذف(کنځل دَ زنا) وئیلے کیږی اواصل سبب دَ نزول دَ دے ایاتونو تهمت لګول وؤپه عائشه رضی اللّٰه عنها باندے ځکه په ایت کښ دَ زنانوصفات ئے ذکرکړیدی لیکن حکم نارینوته هم شامل دے اوبعضو وئیلی دی چه مراد دَ المحصنات نه النفوس المُحصَنَات دی نو ایت عام دے نارینواو زنانودواړوته ﴿بِاَرْبَعَةِ شُهَدَآءَ﴾ په لفظ اربعة کښ ة دلالت کوی چه مراد دَ شهداؤ نه صرف نارینه دی (دَ زنانه شهادت په باب دَ زناکښ صحیح نه دے) ځکه چه اسماء دَ عدد کښ چه (ة) وی نو تمیزبه ئے مذکروی او دَ دوی ئے درے سزاګانے ذکر کړیدی یو اتیا دورے وهل ۔دویم شهادت دَ دهٔ نه قبلول، اشاره ده چه داسے انسان دَ معاشرے نه ویستل غواړی ځکه چه دے فساد خوروی دریم حکم کول چه دے فاسق دے او دَ فاسق شرعی احکام په دهٔ باندے مرتب کیږی اوداځکه چه دهٔ دروغ اُوئیل بل داچه دَ مسلمان بے عزتی ئے کړے ده او دا دواړه ګناهونه کبیره دی ۔او په دے ایت کښ دلیل دے چه څوك بهتان په عائشه رضی اللّٰه عنها رشتیاګنړی اوحال داچه په هغے باندے څلور ګواهان نیشته نودغه مردود الشهادة دی لکه اکثر شیعه ګان دَ دے وخت۔

[٥] دَ دے استثناء اثرخودَ فسق په لرے کولوکښ اجماعی دے لکه چه پدے سره جلد بالاتفاق نه معاف کیږی لیکن دَ قبولیت دَ شهادت سره دَ دے په تعلق کښ اختلاف دے دَ بعض اهل علم په نیزشهادت دَ

شُهَدَآءُ اِلَّآ اَنْفُسُهُمْ فَشَهَادَةُ اَحَدِهِمْ اَرْبَعُ شَهٰدٰتٍۭ بِاللّٰهِ ۙ اِنَّهٗ لَمِنَ الصّٰدِقِيْنَ ۝٦ وَالْخَامِسَةُ اَنَّ لَعْنَتَ اللّٰهِ عَلَيْهِ اِنْ كَانَ مِنَ الْكٰذِبِيْنَ ۝٧ وَيَدْرَؤُا عَنْهَا الْعَذَابَ اَنْ تَشْهَدَ اَرْبَعَ شَهٰدٰتٍۭ بِاللّٰهِ ۙ اِنَّهٗ لَمِنَ الْكٰذِبِيْنَ ۝٨ وَالْخَامِسَةَ اَنَّ غَضَبَ اللّٰهِ عَلَيْهَآ اِنْ كَانَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ۝٩ وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَ

گواهان مګر ځانونه دَ دوی پس ګواهی دَ یو دَ دوی (خاوند) لره څلور ګواهئے دی په قسم په الله تعالیٰ باندے چه یقیناً دے خامخا دے دَرشتینو نه (٦) او پنځمه ګواهی دا ده چه لعنت دَ الله دِ وی په دهٔ باندے که چرے دے وی دَ دروغژنو نه (٧) او اړوی دَ ښځے نه عذاب لره چه ګواهی اوکړی څلور ګواهئے سره دَ قسم نه په الله تعالیٰ باندے چه یقیناً دا (خاوند) خامخا دَ دروغژنو نه دے (٨) او پنځم ځل (وائی به) چه غضب دَ الله دِ وی په دے ښځے باندے که چرے دا خاوندوی دَ رشتینو نه (٩) اوکه چرته نه وے فضل دَ الله تعالیٰ په تاسو باندے او

دوی همیشه مردود دے او دَ بعض اهل علم په نیز روستوډَ توبے نه دَ دوی شهادت قبلولے شی۔

[٦،٧،٨،٩] په دے ایاتونو کښ څلورم حکم ذکر کوی دَپاره دَ بندش دَ لفظ دَ فحشاء په مینځ دَ ښځے اوخاوند کښ په طریقه دَ لعان کولو سره ۔ او څلورونه شهادات وائی ځکه چه اداکیږی به په لفظ دَ اشهد بالله سره اودا په معنیٰ کښ قسم دے اوپه پنځم کرت کښ لفظ دَ اشهد نیشته بلکه دَ جانب دَخاوند نه دعاء شرده په ځان باندے په لعنت سره په شرط دَ دروغ وئیلو سره اودَ جانب دَ ښځے نه دعاء شر ده په ځان باندے په غضب سره په شرط دَ صدق ثابتیدلودَ خاوند سره په دے ښځے باندے۔

فائده۱: په جانب دَ خاوند کښ لعنت ذکردے اوپه جانب دَ ښځه کښ ئے غضب ذکرکړے دے، یووجه دا ده زنانه لفظ لعنت اکثر استعمالوی اوهیڅ پرواه نه کوی لکه چه په حدیث کښ راغلی دی (تکثرن اللعن) دَ دے وجے نه دوی دَپاره لفظ دَغضب ذکرکړے شواونارینه دَ لعنت دَ لفظ نه ډیراجتناب کوی نودَ هغوی په باره کښ هغه ذکرکړیشو۔ دویمه وجه دا ده چه لفظ دَ غضب کښ ډیر شدت دے په نسبت دَ لفظ دَ لعنت سره ځکه چه لعنت کښ دَ رحمت نه محروم کیدل دی اوپه غضب کښ دَ محروم والی دَ رحمت سره نزول دَ قهراودَ عذاب هم وی پس هرکله چه اثبات دَ صدق دَ خاوند سره په ښځه باندے حد دَ زنا ثابتیږی سره دَ اختلاف دَ اهل علم نه اوثبوت دَکذب دَ خاوند سره په خاوند باندے حد قذف راځی اوحد زنا زیات دے دَحد قذف نه۔ دریمه وجه دا ده چه خاوند په داسے معامله کښ اکثر رشتینے وی اوښځه سرهٔ دَ دے نه چه زنا ئے کړے وی لیکن دروغ وائی نوځوک چه سرهٔ دَ علم نه انکارکوی نوهغه مغضوب علیه دے۔ دَ دے وجے نه دَ ښځے په جانب کښ غضب ذکرشو۔

فائده۲: هرکله چه اکثرعادت دَ نارینوپه اړام اودمه دمه خبره کول دی نودَ دهٔ په جانب کښ ئے ﴿وَالْخَامِسَةُ﴾ (په پیخ سره) ذکرکړوچه مستقله جمله ده اوعطف ده په ماقبل باندے اوعادت اکثری دَ زنانوپه خبرو کښ تلواراوعجلت کول دی نودَ هغے په جانب کښ وَالخَامِسَةَ۔ (په زَوَرسره) ذکرکړے دے چه متصل دے دَ ماقبل سره یعنی ان تشهد الشهادة الخامسة والله اعلم او نوراحکام دَ لِعان په احادیثواوفقه کښ تفصیلاً ذکرکړے شوی دی۔

رَحْمَتُهٗ وَاَنَّ اللّٰهَ تَوَّابٌ حَكِيْمٌ ﴿١٠﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ جَآءُوْ بِالْاِفْكِ عُصْبَةٌ مِّنْكُمْ ؕ لَا تَحْسَبُوْهُ شَرًّا لَّكُمْ ؕ بَلْ هُوَ
خَيْرٌ لَّكُمْ ؕ لِكُلِّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ مَّا اكْتَسَبَ مِنَ الْاِثْمِ ۚ وَالَّذِيْ تَوَلّٰى كِبْرَهٗ مِنْهُمْ لَهٗ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿١١﴾ لَوْلَاۤ
اِذْ سَمِعْتُمُوْهُ ظَنَّ الْمُؤْمِنُوْنَ وَالْمُؤْمِنٰتُ بِاَنْفُسِهِمْ خَيْرًا ۙ وَّقَالُوْا هٰذَاۤ اِفْكٌ مُّبِيْنٌ ﴿١٢﴾ لَوْلَا جَآءُوْ

رحمت دَ هغه او دا چه یقیناً اللّٰه تعالیٰ ډیر توبه قبلوونکے دے حکمتونو والا دے (۱۰) یقیناً هغه کسان چه راوړے ده بدنامه (په عائشه رضی اللّٰه عنها باندے) یوه مضبوطه ډله ده ستاسونه ګمان مکوئے په دے باندے بده ده ستاسو دپاره بلکه هغه فائِده منده ده تاسو لره دپاره دَهر یو تن دَ دوی نه (سزا) دَهغے ده چه کړے وی دَګناه نه او هغه تن چه رااوچت کړے دے لوئے بوج دَ دوی نه هغه لره عذاب لوے شان والادے (۱۱) ولے نه وه کله چه تاسودا (خبر) واوریدلو چه ګمان کړے وے مؤمنانو سړو او مؤمنو زنانو په یو بل باندے دَ خیر او وئیلے وے چه دا دروغ بنکاره دی (۱۲) ولے نه راوړی دوی

[۱۰] په دے ایت کښ ترغیب دے عمل کولوته په تیرشوؤحکمونو باندے اوذکردَ نعمت الٰهیه دے، اوفضل نه مراد بچ کول دی دَ اعمالودَ فحشاء نه په اول دوه حکمونوکښ۔ اودَ رحمت نه مراد بچ کول دی دَ اقوالودَ فحشاء نه په روستودوه حکمونوکښ په ذکرکولودَ حدود اودَ لِعان سره۔ اوجزاء دَ لَولَا محذوف ده لَاَبْتَلِيْتُمْ بِالْفَحْشَآءِ یعنی ضرور به مبتلاشوے وے په فحشاء سره۔

[۱۱] دَ دے ایت نه دویم باب تر (۲۷) پورے دے په دے کښ زجرونه دی منافقانوته چه بدنامے لګوی په مؤمنانوباندے او اداب دی مؤمنانوته په وخت دَبدنامه لګیدلو په یو مؤمن باندے او اوصاف دَمنافقانو دی سره دَ تخویف اخروی نه اوترغیبات دی مؤمنانوته سرهٔ دَ بشارت نه۔ په دے (۱۱) ایت کښ زجردے هغه منافقانوته چه بدنامه ئے لګولے وه په عائشه رضی اللّٰه عنها باندے اوپه دے بدنامه لګولوکښ صرف درے دَ اهل ایمان نه شریك شوی ووحسان بن ثابت مسطح بن اثاثه اوحمنه بنت جحش رضی اللّٰه عنهم اوباقی ټول منافقان وؤ ﴿عُصْبَةٌ مِّنْكُمْ﴾ عصبهٔ دَ درے نه ترلسوپورے جماعت ته وئیلے کیږی اومِنکُمْ ئے ځکه او فرمائیل چه منافقان هم ځان په مؤمنانوکښ شمارکوی ﴿لَاتَحْسَبُوْهُ﴾ داتسلّی ده مؤمنانوته ځکه چه دا واقعه سبب اوګرځیدلودَ نزول دَ سورة نور دپاره اودا لوئیے خیردے اودارنګ په بهتان لګیدلوسره ګناهونه معاف شی اودرجات اوچت شی۔ په دے کښ اشاره ده چه کوم مصیبتونه چه په اولیاء اللّٰه باندے راځی په دے کښ دَ هغوی دپاره خیروی ﴿وَالَّذِيْ تَوَلّٰى كِبْرَهٗ مِنْهُمْ﴾ مراد دے نه عبد اللّٰه بن اُبیٔ بن سلول دے چه رئیس دَ منافقانو وؤ اودهٔ دَ دے بهتان ابتداکړے وه اودَ دے نشرو اشاعت به ئے هم کوؤ اودا په روایت دَ امام بخاری کښ دی اودا صحیح قول دے۔ اوچاچه حسان بن ثابتﷺ ته دَ دے نسبت کړے دے هغه قول صحیح نه دے هغه قول دَ هغه راوی اجتهاد دے۔

[۱۲] په دے کښ ادب اول ذکردے دپاره دَ مؤمنانوپه وخت دَبهتان لګیدلوکښ په یومؤمن باندے یعنی مؤمنانو لره تصدیق دَ بهتان ترونکونه دے پکار، بلکه دوی لره ګمان دَ خیر پکار دے ځکه چه ظاهرحال دَ مؤمن پاکدامنی اوعفت دے۔

عَلَيْهِ بِاَرْبَعَةِ شُهَدَآءَ ۚ فَاِذْ لَمْ يَاْتُوْا بِالشُّهَدَآءِ فَاُولٰٓئِكَ عِنْدَ اللّٰهِ هُمُ الْكٰذِبُوْنَ ﴿١٣﴾ وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ
عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ لَمَسَّكُمْ فِيْ مَآ اَفَضْتُمْ فِيْهِ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿١٤﴾ اِذْ تَلَقَّوْنَهٗ بِاَلْسِنَتِكُمْ وَ
تَقُوْلُوْنَ بِاَفْوَاهِكُمْ مَّا لَيْسَ لَكُمْ بِهٖ عِلْمٌ وَّتَحْسَبُوْنَهٗ هَيِّنًا ۖ وَّهُوَ عِنْدَ اللّٰهِ عَظِيْمٌ ﴿١٥﴾ وَلَوْلَآ اِذْ سَمِعْتُمُوْهُ
قُلْتُمْ مَّا يَكُوْنُ لَنَآ اَنْ نَّتَكَلَّمَ بِهٰذَا ۖ سُبْحٰنَكَ هٰذَا بُهْتَانٌ عَظِيْمٌ ﴿١٦﴾ يَعِظُكُمُ اللّٰهُ اَنْ تَعُوْدُوْا لِمِثْلِهٖٓ اَبَدًا
اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿١٧﴾ وَيُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ الْاٰيٰتِ ۭ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿١٨﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ يُحِبُّوْنَ اَنْ تَشِيْعَ الْفَاحِشَةُ

په دے باندے څلور ګواهان پس هر کله چه دوی نه راوړل ګواهان نو دغه کسان په نیز دَ اللّٰه تعالیٰ دوی دروغژن دی (١٣) او که چرے نه وے فضل دَ اللّٰه تعالیٰ په تاسو باندے او رحمت دَ هغه په دنیا او اخرت کښ خامخا رسیدلے به وے تاسو ته په وجه دَ هغه کار چه ورننوتلے تاسو په هغے کښ عذاب لوے شان والا (١٤) کوم وخت چه راخستله تاسو دا خبره دَ یوبل نه په ژبو خپلو سره اووئیل تاسو په خپلو خُلو هغه خبره چه نۀ و تاسو لره په هغے باندے هیڅ علم (دلیل) او ګمان کۀ و تاسو معمولی خبره اوهغه په نیز دَ اللّٰه تعالیٰ لویه بده خبره ده (١٥) او ولے نه وه هر کله چه تاسو واوریدله چه وئیلے وے تاسو نه دی روا مونږ لره چه خُله او خوځۀ و په دے باندے پاکی ده تاله دا بدنامه لویه ده (١٦) منع کوی تاسو لره (په نصیحت سره) اللّٰه تعالیٰ چه بیا اونکړئ پشان دَ دے هیڅ کله که چرے تاسو مؤمنان یئ (١٧) اوبیانوی اللّٰه تعالیٰ تاسو ته احکام او اللّٰه تعالیٰ پوهه دے حکمتونو والادے (١٨) یقیناً هغه کسان چه خوښوی داچه خوره شی بدکاری

[١٣] په دے ایت کښ زجردے منافقانوته اوعِلّت دَ ماقبل دے یعنی هرکله چه دوی خلور ګواهان نشی پیش کولے نو بغیر دَ ثبوت شرعی نه ولے په مؤمنانو باندے ګمان کوی ﴿عِنْدَ اللّٰهِ﴾ دَ دے نه مراد حکم دَ شرع دے یعنی په داسے امورو کښ ګمان دَ انسان ته اعتبار نیشته بلکه چه ثبوت شرعی ورسره نه وی نوپه دۀ باندے حکم دَ دروغژن کیدلے شی۔

[١٤] په دے کښ ترغیب اوتسلّی ده مؤمنانو ته او مراد دَ فضل نه زجرونه دی منافقانوته په بهتان لګولوسره په مؤمنانو باندے اومراد دَ رحمت نه ذکر دَ خائسته ادابو دے چه په دنیا او اخرت کښ فائده ورکوۀنکی دی۔

[١٥] په دے کښ بیا زجردے منافقانوته او داعلت دَ مخکښ تیرشوی مضمون دے چه استحقاق دَ عذاب دے اوپه دے کښ زجردے په درے کارونوسره اول په ژبه دَ یوبل نه نقل کول بے تحقیقه، دویم خبره کول بے دلیله دریم غټه ګناه معمولی خبره ګڼړل او دا صفتونه دَ منافقانو دی۔

[١٦] په دے کښ ذکر دَ دریم ادب دے مؤمنانوته یعنی منافقان خوپدے باندے ژبے خوځوی لیکن مؤمنانوله پکاردی چه خپلے ژبے دَ دے نه اوساتی او په دے کښ دَ اول ادب نه زیات تاکید دے په اول کښ صرف ترغیب وۀ خائسته ګمان کولوته او په دے کښ ترغیب دے بنکاره انکار کولو دَ بهتان ته۔

[١٧] په دے ایت کښ دا بل ادب دے مؤمنانو دپاره یعنی منع کول دَ بهتان ترلونه همیشه۔

[١٨] په دے ایت کښ ترغیب دے تعمیل دَ دے ادابوته مراد دَ ایت نه اداب او علامات دَ منافقانو دی۔

فِي الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۙ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ۭ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ وَاَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ۝١٩ وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ
عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ وَاَنَّ اللّٰهَ رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ۝٢٠ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّبِعُوْا خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ ۭ وَمَنْ يَّتَّبِعْ ع ١٢
خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ فَاِنَّهٗ يَاْمُرُ بِالْفَحْشَاۗءِ وَالْمُنْكَرِ ۭ وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ مَا زَكٰى مِنْكُمْ مِّنْ
اَحَدٍ اَبَدًا ۙ وَّلٰكِنَّ اللّٰهَ يُزَكِّيْ مَنْ يَّشَاۗءُ ۭ وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ۝٢١ وَلَا يَاْتَلِ اُولُوا الْفَضْلِ مِنْكُمْ وَالسَّعَةِ اَنْ
يُّؤْتُوْٓا اُولِي الْقُرْبٰى وَالْمَسٰكِيْنَ وَالْمُهٰجِرِيْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۠ وَلْيَعْفُوْا وَلْيَصْفَحُوْا ۭ اَلَا تُحِبُّوْنَ اَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ

په مؤمنانو کښ دوی لره عذاب درد ناك دے په دنیا او اخرت کښ او اللّٰه تعالیٰ پوهیږی او تاسو نه پوهیږئے (۱۹) او که چرے نه وے فضل دَ اللّٰه تعالیٰ په تاسو باندے او رحمت دَ هغه او داچه یقیناً اللّٰه تعالیٰ شفقت کؤونکے رحم کؤونکے دے (۲۰) اے ایمان والو مه ځئے په قدمونو دَشیطان پسے اوځوك چه روان شو په قدمونو دَ شیطان پسے پس یقیناً هغه خودنه کوی دَ ګنده کارونو او دَناکاره خبرو او که چرے نه وے فضل دَ اللّٰه تعالیٰ په تاسوباندے او رحمت دَ هغه پاك به نه وے پاتے شوے دَبدنامونه ستاسونه هیڅوك هیڅرے او لیکن اللّٰه تعالیٰ پاك ساتی چاڅه چه اوغواړی او اللّٰه تعالیٰ هرڅه آوری اوپه هرڅه پوهیږی (۲۱) اوقسم دے نه کوی غوره والی والا ستاسونه او مال والا دَ ورکولو نه خپلوانو ته او مسکینانو ته او هجرت کؤونکوته په لار دَ اللّٰه تعالیٰ کښ اومعافی دے کوی اومخ دے اړوی (دَ ملامته کولونه) ایاتاسو نه غواړئ چه بخښنه اوکړی اللّٰه تعالیٰ

[۱۹] په دے کښ ذکرَ صفت دَ منافقانودے اوتخویف دنیوی اواخروی دے اومراد دَ اشاعت دَ فاحشه نه عام دے ۔ بدنامی دَ یومؤمن خورول دَکفراوشرك اشاعت بدعات اورسم ورواج ته دعوت ورکول دَ فحاشئ اودَ بدکارئے اسباب عام کول سینماته ترغیب ورکول داټول په اشاعت دَ فاحشه کښ داخل دی، اوعذاب مشروط دے په شرط دَ توبے نه کولوسره۔

[۲۰] په دے ایت کښ ترغیب دے اوتخویف ته اشاره ده په حذف دَ جزاء دَ لَوْلَا سره چه لعذبکم دے اودے ایت کښ دَ فضل نه مراد بیان دَ علاماتودَ منافقانودے او مراد دَ رحمت نه حفاظت دے دَ فاحشے او دَ اشاعت دَ هغے نه اودا دواړه خبرے دَ مؤمنانودپاره رآءفت او رحمت دے۔

[۲۱] په دے ایت کښ ذکرَ ادب دے دپاره دَمؤمنانواومنع دَکارونودَ منافقت نه ده چه هغے ته اشاره ده په﴿خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ﴾ سره ﴿بِالْفَحْشَاۗءِ﴾ نه مراد هغه عملونه دی چه دَ ټولواهل عقلو په نیزباندے قبیح دی لکه دروغ وئیل اوبهتان ترڼ بدکاری کول ﴿وَالْمُنْكَرِ﴾ نه مراد هغه کارونه دی چه دَ هغے نه شرع منع کړے وی اګر چه نورخلق ئے بدنه ګنړی۔ اودے ایت کښ دَ فَضلُ نه مراد قرآن کریم دے چه منع کوؤنکے دے دَ تابعداریٔ دَ شیطان نه۔ اودَ رَحمَت نه مراد دَ دے سورة نازلول دی دپاره دَ عفت اودَپاکدامنیٔ اواشاره ده چه انسان په تزکیه کښ اللّٰه تعالیٰ ته محتاج دے۔

لَكُمْ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۲۰﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ يَرْمُوْنَ الْمُحْصَنٰتِ الْغٰفِلٰتِ الْمُؤْمِنٰتِ لُعِنُوْا فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ
وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿۲۳﴾ يَّوْمَ تَشْهَدُ عَلَيْهِمْ اَلْسِنَتُهُمْ وَاَيْدِيْهِمْ وَاَرْجُلُهُمْ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۲۴﴾ يَوْمَئِذٍ
يُّوَفِّيْهِمُ اللّٰهُ دِيْنَهُمُ الْحَقَّ وَيَعْلَمُوْنَ اَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْحَقُّ الْمُبِيْنُ ﴿۲۵﴾ اَلْخَبِيْثٰتُ لِلْخَبِيْثِيْنَ وَالْخَبِيْثُوْنَ
لِلْخَبِيْثٰتِ ۚ وَالطَّيِّبٰتُ لِلطَّيِّبِيْنَ وَالطَّيِّبُوْنَ لِلطَّيِّبٰتِ ۚ اُولٰٓئِكَ مُبَرَّءُوْنَ مِمَّا يَقُوْلُوْنَ ؕ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّرِزْقٌ
كَرِيْمٌ ﴿۲۶﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَدْخُلُوْا بُيُوْتًا غَيْرَ بُيُوْتِكُمْ حَتّٰى تَسْتَاْنِسُوْا وَتُسَلِّمُوْا عَلٰٓى اَهْلِهَا ؕ ذٰلِكُمْ ع ۳

تاسوته اوالله تعالی بخنه کړونکے رحم والادے (۲۲) یقیناً هغه کسان چه بدنامے لګوی په پاکو زنانو سادګانو ایمان والو باندے لعنت کړے شوے په دوی باندے په دنیا کښ او اخرت کښ او دوی لره عذاب لوے شان والادے (۲۳) په هغه ورځ چه ګواهی کوی په دوی باندے ژبے دَ دوی او لاسونه دَ دوی او خپے دَ دوی په هغه عملونو باندے چه دوی ئے کوی (۲۴) په دغه ورځ به پوره ورکړی دوی ته الله تعالی بدله دَ دوی (چه دوی ئیے حق لری) اویقین به اوکړی چه الله تعالی هغه حق دے ښکاره دے (حقانیت دَهغه) (۲۵) پلیتے دپاره دَ پلیتانو دی او پلیتان دپاره دَ پلیتو دی او پاکے دپاره دَ پاکانو دی او پاکان دپاره دَ پاکو وی دغه کسان پاك دی دَ هغه خبرونه چه وائی (ورپسے) پلیتان دَ دوی دپاره بخښنه ده او رزق عزت والادے (۲۶) اے ایمان والو مه داخلیږئ کورونو ته سیوا دَکورونو ستاسو نه ترهغے پورے چه ځان ورته معلوم کړئے په اجازت غوښتلو سره او سلام اوکړئ دَ هغے په اوسیدونکو باندے دا به

[۲۲] په دے ایت کښ ذکردَ ادابودے مؤمنانوته یعنی لوئیے مرتبے والا مؤمن دَپاره لوئے اخلاق پکار دی اوپه دے ایت کښ ذکردَ عظمت شان دَ صحابه کرامو دے ځکه ایت نازل شوے دے په باره دَ ابوبکر او مسطح بن اثاثه رضی الله عنهما کښ مسطح دَابوبکر رضی الله عنه دَ خاله ځوئے وؤ مسکین وؤمهاجروؤ لیکن په بهتان دَعائشه رضی الله عنهاکښ شریك شوے وؤنوابوبکر رضی الله عنه قسم اوکړوچه ځه به دهٔ ته اښنده دپاره هیڅ نفقه اوصدقه نه ورکوم نوروستودَ دے ایاتونو دَ نزول نه او دَ توبے دَمسطح نه دا ایت نازل شو۔ اواشاره ده چه په یوګناه (بغیردَ شرك اوکفرنه) سره عملونه نه برباد کیږی دَ داسے شخص سره قرابت اودَ هغه په عمل دَ هجرت کښ نقصان نه رائی۔ اودا ایت دلیل دے چه بل چاته دَ هغه جرم معاف کول سبب دَ مغفرت دَګناهونودے۔

[۲۳،۲۴،۲۵] په دے ایاتونوکښ تخویف اخروی دے بدنامه لګوونکو منافقانوته چه هغوی داعمل جائز ګڼړی۔ اوتوبه ئے نه وه کړے اودا صفت دَ منافقانودے او ایت عام دے نارینواوزنانو ټولوته شامل دے یعنی دَ المحصنات نه مراد نفسونه پاکدامن دی او هرکله چه منافقانوپه دے واقعه کښ ژبے اولاسونه اوخپے استعمال کړی دی نودَ هغے شهادت ئے ذکرکړو، اوداسے شهادت په سورة یٰس(٦٥)اوسورة حمٓ سجده (۲۰)کښ ذکرشوے دے﴿اَلْحَقُّ الْمُبِيْنُ﴾ نوم دے دَنومونودَالله تعالی نه۔ لازمی معنیٰ دا ده چه ښکاره دے حقانیت دَ الله تعالی په هرقسم دلیلونوسره یا متعدی معنیٰ ده چه بیانوؤنکے دے حق لره۔

[۲۶] په دے ایت کښ بشارت دے مؤمنانو ته روستودَ ذکردَ تخویف نه اواشاره ده دلیل ته په برائت

خَيْرٌ لَّكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ ﴿۲۷﴾ فَاِنْ لَّمْ تَجِدُوْا فِيْهَآ اَحَدًا فَلَا تَدْخُلُوْهَا حَتّٰى يُؤْذَنَ لَكُمْ ۚ وَاِنْ

غوره وی تاسو لره دَ دے دپاره چه یاد اولرئے داحکم (۲۷) پس که چرے نه مومئے په هغے کښ څوك (چه اجازت ورکړی) نومه داخلیږئ تردے پورے چه اجازت اوکړے شی تاسوته اوکه چرے

دَ عائشه رضی اللّٰه عنها یعنی پاکدامنی دَ پیغمبردلیل دے په پاکدامنے دَ بیبیانودَ هغهٔ باندے ځکه چه ﴿الطَّيِّبٰتُ لِلطَّيِّبِيْنَ﴾ او ﴿اُولٰٓئِكَ مُبَرَّءُوْنَ﴾ کښ دلیل دے چه په بهتان وئیلودَ خبیثانوسره دَ پاکدامنو پاکوالی ته نقصان نه رسی او، اَلْخَبِيْثٰتُ، اوالطَّيِّبَاتُ ، زنانو اوکلماتو اوکارونواوعاداتو تپولوته شامل دی۔

فائده: مفسرقرطبی لیکلی دی چه اللّٰه تعالیٰ برائت دَ یوسف علیه السلام بنکاره کړے وؤ(په بیان دَ یوشاهد سره) اوبرائت دَ مریم ئے بنکاره کړے وؤپه ژبه دَولد دَ هغے په وړوکوالی دَ هغه کښ۔ او لیکن برائت دَ عائشه رضی اللّٰه عنها، اللّٰه تعالیٰ په خپله اوکړوپه انزال دَ دے سورة سره۔

[۲۷] دَ دے ایت نه تر (۳۵) پورے دریم باب دے په دے کښ ذکرکیږی لس اداب چه هغه بندش دے دَ اسبابودَ فحش کارئے نه اوپه اخرکښ ترغیب دے۔ په دے ایت کښ اول ادب ذکرکوی یعنی دَ یوبل دَ اوسیدلوځائے ته په اجازت سره دا خلیدل ضروری دی بے اجازته داخلیدل حرام دی اوپه دے کښ لوئے فساد دا دے چه بے اذنه (ناساپه) داخل شے نوکیدے شی چه اوسیدونکے دَ کورنارینه یازنانه په داسے حالت کښ وی چه عورت ئے بنکاره وی۔ اودابے حیائی ده او دَ دے وجے داحکم دَ خپلے بنځے دَ اوسیدلو دَ مکان نه علاوه هرکوراوځائے دَ اوسیدلوته شامل دے تردے پورے چه دَ موردَ اوسیدلوځائے ته هم دا حکم شامل دے لکه چه داسے په حدیث ابن جریرطبری وغیره کښ راغلی دی﴿حَتّٰى تَسْتَاْنِسُوْا﴾مراد دَ استیناس نه اجازت طلب کول دی لیکن هرکله چه دَ دے اذن غوښتلودپاره الفاظ متعین نیشته صرف مقصدترینه عرفی تعارف کول دی کوروالوته ځکه لفظ دَ استیناس ئے ذکرکړے دے اودَ دے دپاره مختلفے طریقے دی۔ اوله طریقه دا ده چه دَ دروازے نه په یو طرف اودریږی او اواز ورکړی چه څه فلانے اجازت غواړم دَ د ننه داخلیدلواو ورسره به سلام هم ملګرے کړی، دویمه طریقه دا ده چه قاصد په چاپسے اولیږی اوهغه دَ قاصد سره راشی نوبیا اجازت غوښتلوته حاجت نیشته دَ قاصد سره راتلل اجازت دے۔ دریمه طریقه دا ده چه دروازه په دمه سره اوټکوی او دَ اذن انتظاراوکړی دا درے واړه طریقے په احادیث صحیح کښ ذکرکړے شوے دی۔خلورمه طریقه په حدیث دَ ابن ماجه کښ ذکرده چه استیناس دا دے چه تسبیح اُوائی یا اللّٰه اکبر، یا الحمد للّٰه، یاغاړه تازه کړی۔په داسے طریقه چه کوروالاخبرشی بیا دَ اذن انتظار اوکړی۔ ﴿وَتُسَلِّمُوْا عَلٰٓى اَهْلِهَا﴾ مراد دَ دے نه سلام کول دی په وخت دَ اذن طلب کولوکښ داسے اُوائی السلام علیکم أ أدخُل اودرے کرته به دا سلام وی یا مراد دَ دے نه سلام دے پس دَ اذن نه کله چه داخل شی۔اودَ ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے چه دَ اذن سره سلام اونکړی نوواپس دِکړیشی تر دے پورے چه سلام اوکړی۔

فائده:دا استیذان داسے فرض دے که یوکس مخکښ دَ اذن غوښتلونه دَچاکورته نظراوکړی نو کور والوته اجازت دے چه دَ دهٔ سترګه په یودِکی سره اوباسی داپه حدیث دَصحیح مسلم کښ راغلی دی اوپه ظاهر باندے حمل دے۔

قِيْلَ لَكُمُ ارْجِعُوْا فَارْجِعُوْا هُوَ اَزْكٰى لَكُمْ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ عَلِيْمٌ ﴿۲۸﴾ لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ اَنْ تَدْخُلُوْا
بُيُوْتًا غَيْرَ مَسْكُوْنَةٍ فِيْهَا مَتَاعٌ لَّكُمْ ؕ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا تُبْدُوْنَ وَمَا تَكْتُمُوْنَ ﴿۲۹﴾ قُلْ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ يَغُضُّوْا
مِنْ اَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوْا فُرُوْجَهُمْ ؕ ذٰلِكَ اَزْكٰى لَهُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ خَبِيْرٌۢ بِمَا يَصْنَعُوْنَ ﴿۳۰﴾ وَقُلْ لِّلْمُؤْمِنٰتِ

اُوئیلے شی تاسوته واپس شئے نو واپس لاړشئ دا بچ کؤونکے ده دَ بدنامے نه تاسو لره او اللّٰه تعالیٰ ستاسو په عملونو باندے پوهه دے (۲۸) نیشته په تاسو باندے گناه چه داخل شئے کوټه ته چه اوسیدل نه کیږی په هغے کښ فائِده به وی ستاسو او اللّٰه تعالیٰ پوهه دے په هغه څیز چه ښکاره کوئے او هغه چه پټوئے تاسو (۲۹) او اُوایه مؤمنانو ته چه کوز ساتی بعضے دَ نظرونو خپلونه او بچ ساتی عورتونه خپل دا طریقه پاك ساتونکے ده دوی لره یقیناً اللّٰه تعالیٰ خبر دے په هغه کارونو چه دوی ئے کوی (۳۰) او اُوایه مؤمناتو زنانو ته

[۲۸] مقصد دَ ایت دا دے چه بغیرد اذن کولونه داخلیدل منع دی که څوك په کور کښ موجود نه وی یا موجودوی لیکن اذن نه ورکوی چپ وی نونه به داخلیږی اوکه دَ واپس کیدلو اُوئیلے شی نو واپس کیدل ضروری دی په هغے باندے خفګان کول نه دی پکار۔

[۲۹] مراد دَ دے نه داسے مکانونه دی چه څوك پکښ اوسیدل نه کوی مثلاً دکان، منډئے، دفتراوهغے ته څوك دَخپل ضرورت دپاره داخلیږی نواذن طلب کولوته حاجت نیشته دے۔

[۳۰] دا دریم ادب دے مؤمنانو لره په باره دَپابندئے کولوپه سترګو باندے اوپه فروج (عورت خاصه) باندے۔ دَ سترګوادب ئے مقدّم ذکرکړوځکه دا اصل سبب دے زړه ته دَ اثر رسولو دَپاره اودارنګ دَ میلان دَپیداکیدلودپاره ﴿مِنْ اَبْصَارِهِمْ﴾ لفظ دَ مِن صله ده دَپاره دَغض۔ ځکه چه غض کمولوته وائی نومعنیٰ داده چه دَسترګو دَنظرنه دِکمے اوکړی اویا دپاره دَ تبعیض دے اوغض په معنیٰ دَکوزولودے نومعنیٰ دا ده چه کوزاوخکته دِساتی بعض دَ نظرونوخپلونه اودَ دواړومراد دا دے چه په سترګو باندے دِ هرڅیزاوهر ځائے ته نه ګوری۔ بیا دلته مفعول ئے نه دے ذکرکړے لیکن شرعًا او عادتاً معلوم دے چه هغه ځایونه دَ بدن مراد دی چه دَ هغے ښکاره کول نارینه او زنانه لره حرام وی اوبعضے نظرچه جائزدے هغه ناسابه نظرکول دی اوهغه بے اختیاره دی په هغے کښ حکم دا دے چه زربه خپل نظرواپس کوی لکه چه په حدیث دَصحیح مسلم کښ دَجریربن عبد اللّٰهؓ نه روایت راغلے دے اوبعضے جائزنظر دَ ضرورت دَعلاج کولوپه وخت کښ دے ﴿يَحْفَظُوْا فُرُوْجَهُمْ﴾ حفاظت دَ فروجونه مراد ساتل دی دَکشف (ښکاره) کولونه اودارنګ بچ ساتل دَ بدکارئے نه پکښ په طریقه اولی سره داخل دی اودَ دے سره ئے مِن نه دے ذکرکړے ځکه چه حفاظت دَ فروجو، دَ ښځے اوخپلے وینځے نه علاوه هر وخت لازم اوضروری دے اګرچه انسان ځان له په خلوت کښ ناست وی هم به عورت (بلاضرورت) نه ښکاره کوی دَ وجے دَحیا دَملائکونه اودَ اللّٰه تعالیٰ نه، دارنګ صحیح حدیث کښ ذکرکړے شوی دی ﴿اَزْكٰى﴾ یعنی په دے ادب باندے په عمل کولوسره دَ انسان زړه اواندامونه دَ بدخیالاتواوګناهونونه پاك وی اودارنګ دَ بدنامے او دَتهمتونونه هم پاك شی په دے کښ اشاره ده چه پاکه معاشره په داسے ادابوسره پیداکیږی ﴿يَصْنَعُوْنَ﴾ صنع هغه کارته وئیلے کیږی

يَغْضُضْنَ مِنْ اَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوْجَهُنَّ وَلَا يُبْدِيْنَ زِيْنَتَهُنَّ اِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَلْيَضْرِبْنَ
بِخُمُرِهِنَّ عَلٰى جُيُوْبِهِنَّ ۖ وَلَا يُبْدِيْنَ زِيْنَتَهُنَّ اِلَّا لِبُعُوْلَتِهِنَّ اَوْ اٰبَآئِهِنَّ اَوْ اٰبَآءِ بُعُوْلَتِهِنَّ اَوْ
اَبْنَآئِهِنَّ اَوْ اَبْنَآءِ بُعُوْلَتِهِنَّ اَوْ اِخْوَانِهِنَّ اَوْ بَنِيْٓ اِخْوَانِهِنَّ اَوْ بَنِيْٓ اَخَوٰتِهِنَّ اَوْ نِسَآئِهِنَّ اَوْ مَا مَلَكَتْ
اَيْمَانُهُنَّ اَوِ التّٰبِعِيْنَ غَيْرِ اُولِي الْاِرْبَةِ مِنَ الرِّجَالِ اَوِ الطِّفْلِ الَّذِيْنَ لَمْ يَظْهَرُوْا عَلٰى عَوْرٰتِ النِّسَآءِ ۖ وَلَا
يَضْرِبْنَ بِاَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِيْنَ مِنْ زِيْنَتِهِنَّ ۭ وَتُوْبُوْٓا اِلَى اللّٰهِ جَمِيْعًا اَيُّهَ الْمُؤْمِنُوْنَ لَعَلَّكُمْ
تُفْلِحُوْنَ ۝ وَاَنْكِحُوا الْاَيَامٰى مِنْكُمْ وَالصّٰلِحِيْنَ مِنْ عِبَادِكُمْ وَاِمَآئِكُمْ ۭ اِنْ يَّكُوْنُوْا فُقَرَآءَ يُغْنِهِمُ اللّٰهُ

چه کوز ساتی دَ نظرونو خپلونه او بچ ساتی عورتونه خپل اونه بنکاره کوی پول خپل مگر چه بنکاری دَهغی نه (بے اختیاره مجبوراً) او اچوی دے لوپتی خپلے په گریوانونو خپلو باندے او نه دے بنکاره کوی پول خپل مگر خاوندانو خپلوته یا پلارانو خپلوته یا سخرانو خپلو ته یا ځامنو خپلوته یا بن ځو خپلوته یا رونړو خپلوته یا وریرونو خپلوته یاخور یونو خپلوته او زنانو خپلو (یعنی مؤمنو) ته یا هغه (وینځے) چه مالك دی پرے خی لاسونه دَ دوی یا خدمتگاران چه نه دی شهوت والا دَ نارینونه یا هغه واړه چه نه دی خبر شوی په عورتونو دَ زنانو باندے او نه گدی خپے خپلے په زور سره په زمکه باندے د پاره دَ دے چه معلوم شی خلقوته هغه چه پټ دی دَ کالودَ دوی نه او توبه اوباسئ اللّٰه تعالیٰ ته ټول اے مؤمنانو دَ دے دپاره چه کامیاب شئ (۳۱) او نکاح اوکړئ دَ لونډانو ستاسو نه او دَنیکانو (مؤحدینو) دَمرئیانو او دَ وینځو ستاسونه که دوی وی فقیران نو مالداری به ورکړی اللّٰه تعالیٰ

چه عادت گرځیدلے وی یعنی چاچه سترگے په ناکاره نظر کولو عادت کړی دی یا دَ عورت دَ بنکاره کولوعادت ئے نیولے وی نو هغه ته زورنه ده۔

[۳۱] په دے ایت کښ پنځه اداب زنانومؤمنانو دَپاره ذکرکړی دی۔ اول ادب غض دَ بصردَ هغے، تفصیل ئے مخکښ بیان شویعنی لکه چه نارینه منع دے پردوزنانوته دَ نظرکولونه نودارنګ زنانه هم منع کړے شوی دی دَ نظرکولو نه نارینو ته۔ دویم ادب حفاظت دَ فروجو هغه هم مخکښ ذکرکړے شو۔ دریم ادب ﴿وَلَا يُبْدِيْنَ زِيْنَتَهُنَّ﴾ زینت دوه قسمه دے خِلقی او کسبی اوبیا دوه قسمه ظاهری اوباطنی، خِلقی زینت مخ اوبدن دے او کسبی جامے کالی اچول رنګ لګول رانجه لګول وغیره﴿اِلَّا مَاظَهَرَمِنْهَا﴾ ظَهَرَ نه مراد هغه دے چه په مجبورئے باندے بنکاره کیږی نودا استثناء منقطع ده معنیٰ دا شوه چه زنانه دے قصداً خپل زینت نه بنکاره کوی چه مجبوراً بنکاره کیږی نوپه هغے کښ ګناه نیشته۔ اومجبوراً بنکاره کیدونکے زینت ځادراوبورقه پرونے دے ځکه چه هغے دَ پاسه نورے جامے نشی اچولے ۔ او دارنګ دَ لارے دَ لیدلو په ضرورت سره یو سترګه بنکاره کول دی اودارنګ ګوتے دَ یولاس چه په هغے سره په ځان باندے ځادر پرونے رانیسی اویا سیلئی راشی جامه ترینه واړه وی دا مجبوراً بنکاره کیدل دی۔

فائده: بعضے مفسرینواوفقهاؤدَ ما ظهرمنها نه مراد مخ اوورغوی اراده کړی دی او مشروط ئے لګولے دے چه دا نظر هغه وخت جائزدے چه نه شهوت وی اونه احتمال دَ شهوت وی اودَ دے دپاره ئے دلیل پیش

کړے دے په قول دَعلی اوابن عباس رضی اللّٰه عنهم سره په تفسیرد ماظهرمنهاکښ۔ دویم دلیل ئے حدیث دَ اسماء رضی اللّٰه عنها ذکرکړے دے اوپه هغے کښ نقل دی چه کله زنانه بالغه شی نونه دی جائزچه بشکاره شی دَ هغے نه مګردا اواشاره ئے اوکړه مخ او ورغوؤته۔ جواب دَ اول دلیل نه دا دے، ابن همام فتح القدیرص(۹۷) شرح هدایه کښ وئیلی دی چه دَ ماظهرمنها په تفسیرکښ دَ صحابه کرامونه نوراقوال هم نقل دی چه هغه دلالت نه کوی په مدعا باندے اودلالت دَ قول دَ علی﷜ اوابن عباس﷜ هم واضح نه دے (ځکه دَ هغوی نه الکحل والخاتم نقل دے) نوظاهردا ده چه مراد دَ کحل نه ځائے دَکحل دے یعنی سترګے اومراد دَخاتم نه ځائے دګوتے مراد دے یعنی ګوتے دَ لاس دَ دے وجے نه دا دلیل ثابتوؤنکے دَ مدعانه دے۔ او دَ دویم دلیل نه جواب تفسیر ابن کثیرکښ ذکرکړے دے چه ابوداؤد اوابوحاتم وئیلی دی دا حدیث مرسل (منقطع) دے ځکه چه خالد بن دریك دَعائشه رضی اللّٰه عنها نه اوریدل نه دی کړی۔ اوبل جواب ابن قدامه الحنبلی په المغنی (ج ۹ص ۵۰۰)کښ ذکرکړے دے وئیلی ئے دی که حدیث اسماء چرے صحیح شی پس احتمال لری چه روایت دَ نزول حجاب نه رواندے وؤاونور احادیث مرفوعه په جوازدَ نظردَ مخ باندے بغیردَ خطبے نه هیڅ دلالت نه کوی۔ تفسیر سمرقندی حنفی (ج۲ ص ۴۳۷) دَ عبد اللّٰه بن مسعود﷜ نه روایت نقل کړے دے چه دَ دهٔ نه تپوس کړے شویوؤپه باره دَ الاماظهرمنهاکښ نوهغهٔ په سرباندے څادر واچوؤ اومخ ئے پټ کړو اویوه سترګه ئے بشکاره کړه اودارنګ په تفسیردَ ﴿یُدْنِیْنَ عَلَیْهِنَّ مِنْ جَلَابِیْبِهِنَّ﴾کښ ذکرکړے شویدی (لکه په تفسیردَ سورة احزاب کښ به انشاء اللّٰه تعالیٰ راشی)۔

تنبیه: دَ وجے دَ اختلاف دَ روایاتونه په باره دَ مخ او ورغوؤ کښ حکم دَ ستردَ دے کښ تخفیف دے په نسبت دَ نوربدن سره لکه څرنګ چه صاحب هدایه په باره دَ زنګون او پتون او عورة غلیظه کښ دَ حکم فرق ذکرکړے دے دَ وجے دَ اختلاف دَ روایاتونه۔ څلورم ادب ﴿وَلْیَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلٰی جُیُوْبِهِنَّ﴾ یعنی لوپټه اوپرونی په داسے طریقه سره دے اغوندی چه سراوګریبان پټ شی اورد دے په طریقه دَ جاهلیت باندے چه دَ هغوی زنانوبه په لوپټه باندے سینے نه پټولے بلکه شاته یا په اوکو باندے به ئے لوپټه اویزانه کړیوه۔ اوخمرهن جمع دَ خمارده ، پټه وؤنکی ته وئیلے کیږی نوکومه لوپټه چه نرے وی اوویخته سر سینه ورباندے نه پټیږی نودَ هغے استعمال حرام دے۔

فائده: دا ایت دلیل دے چه قمیصونوکښ ګریبان په سینه باندے جورول پکاردی داسے مفسرقرطبی ذکر کړیدی۔ اوامام بخاری هم باب جیب القمیص عند الصدرترجمة الباب ذکرکړیدے۔ نوپه قمیصونو کښ ګریبان په اوکه باندے یا په شا باندے جورول لکه بعض متصوفه کوی یا زنانه کوی دا خلاف دَ مسنون طریقے نه دے ﴿وَلَایُبْدِیْنَ زِیْنَتَهُنَّ اِلَّا لِبُعُوْلَتِهِنَّ﴾ هرکله چه مخکښ استثناء مجبوری ذکرکړه نواوس استثناء اختیاری ذکرکوی، اومراد دَ زینت نه اعضاء (اندامونه) دَ زینت دی یعنی سر، مخ، غوګونه، غاړه، څنګلے، لاسونه، خپے اوپندئے ځکه چه کالی اکثرپه دے اندامونوکښ استعمالیږی یا زینت کالوته وئیلے شی لکه سورة طٰهٰ (۸۶)کښ اوغوره دا ده چه سرپکښ داخل نه دے۔ اودا دولس اقسام دی چه دَ دوی په منیځ کښ هم تفاوت دے په حکم کښ لیکن مطلق ابداء زینت کښ شریك دی﴿اَوْنِسَآئِهِنَّ﴾ دا دلیل دے

مِنْ فَضْلِهٖ ؕ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ﴿۳۲﴾ وَلْيَسْتَعْفِفِ الَّذِيْنَ لَا يَجِدُوْنَ نِكَاحًا حَتّٰى يُغْنِيَهُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ ؕ
وَالَّذِيْنَ يَبْتَغُوْنَ الْكِتٰبَ مِمَّا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ فَكَاتِبُوْهُمْ اِنْ عَلِمْتُمْ فِيْهِمْ خَيْرًا ۖ وَّاٰتُوْهُمْ مِّنْ
مَّالِ اللّٰهِ الَّذِيْٓ اٰتٰىكُمْ ؕ وَلَا تُكْرِهُوْا فَتَيٰتِكُمْ عَلَى الْبِغَآءِ اِنْ اَرَدْنَ تَحَصُّنًا لِّتَبْتَغُوْا عَرَضَ الْحَيٰوةِ
الدُّنْيَا ؕ وَمَنْ يُّكْرِهْهُّنَّ فَاِنَّ اللّٰهَ مِنْۢ بَعْدِ اِكْرَاهِهِنَّ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۳۳﴾ وَلَقَدْ اَنْزَلْنَآ اِلَيْكُمْ اٰيٰتٍ مُّبَيِّنٰتٍ وَّمَثَلًا

دَ فضل خپل نه او اللّٰه تعالیٰ فراخ فضل والا عالم په هرڅه باندے دے (۳۲) او ځان دے پاك ساتی هغه کسان چه نه مومی نکاح لره تردے پورے چه مالداری به ورکړی اللّٰه تعالیٰ دوی ته دَ فضل خپل نه او هغه کسان چه غواړی مکاتب کیدل دَ هغه چانه چه مالك دی پرے خی لاسونه ستاسونو مکاتب کړئے دوی لره که چرے پوهیږئے تاسو په هغوی کښ دَخیر(ایمان) او ورکوئ دوی ته دَ مال دَ اللّٰه تعالیٰ نه هغه چه درکړے دے تاسوته او زور مکوئ په جینکو خپلو باندے دَ بدکارئ (او دَ نکاح نه کولو) که چرے غواړی هغوی پاکدامنی (نکاح کول) دَ دے دپاره چه اولټوئے سامان دَ ژوند دنیوی او چاچه زور اوکړو په دوی باندے نو یقیناً اللّٰه تعالیٰ روستو دَ زور کولو نه په دوی باندے بخښنه کوونکے رحم کوونکے دے (۳۳) او یقیناً نازل کړی دی مونږ تاسو ته ایاتونه وضاحت کوونکی او نمونے

چه دَکافرے اومشرکے زنانه نه ستردَ زینت فرض دے ﴿اَوْمَامَلَكَتْ اَيْمَانُهُنَّ﴾ دَ صحابه اوتابعینواختلاف دے چه په دے ایت کښ غلام دَ ښځے داخل دے اوکه نه دے داخل که نوی داخل لکه داغوره قول دے لیکن بیاهم دَهغه په باره کښ په حکم کښ تخفیف دے ﴿غَيْرِ اُولِي الْاِرْبَةِ مِنَ الرِّجَالِ﴾ مراد دَ دے نه هغه نارینه دی چه په هغوی کښ ماده دَشهوت نوی اودا رنګ دَ زنانوپه حسن اوجمال باندے هم نه پوهیږی اوخدمتګاران وی په کورونوکښ اوپه دے کښ هیڅراګان اوخزنائی نه دی داخل۔

فائده: دَ دے اقسامونه علاوه کسانو په وړاندے زینت ښکاره کول حرام دی لکه ترهٔ، دَ اوترهٔ اولاد، ماما اودَ ماما اولاد، لیور، اوبعض علماؤدَ ترهٔ اوماما په باره دَ جواز قول ذکرکړے دے۔ پنځم ادب ﴿وَلَا يَضْرِبْنَ بِاَرْجُلِهِنَّ﴾ یعنی زنانه دِپه داسے طریقه قدم نه ګڈی اونه دے رفتارکوی چه دَکالو اوازئے او ریدلے کیږی ځکه چه په دے سره حرکت دَ شهوت په زړونوپیداکیږی۔

[۳۲] په دے ایت کښ ذکردَ اتم ادب دے حاصل دا دے چه بے وادهٔ سړے یا زنانه مه پریګدئے اودارنګ مریان اووینځوله هم ضرور ودونه اوکړئے ځکه چه په وادهٔ نه کولو سره معاشره کښ فحاشی بدکاری پیداکیږی اوبدنامے هم ډیریږی ﴿يُغْنِيَهُمُ اللّٰهُ﴾ مراد دا دے چه کوم یوغریب سړی په دے نیت نکاح اوکړه چه عفت اوپاکدامنی حاصله کړی نواللّٰه تعالیٰ هغه لره غناورکوی غِناپه مال اوغِناپه زړه، دواړه ورکوی اودلالت کوی په دے باندے حدیث دَابن ماجه چه رسول اللّٰهﷺ فرمائیلی دی درے قسمه کسان دی چه اللّٰه تعالیٰ دَ هغوی سره ضرور امدادکوی (۱) مجاهد فی سبیل اللّٰه (۲) نکاح کوونکے په اراده دَ عفت اوپاکدامنئ سره (۳) مکاتب چه اراده لری دَ بدلِ کتابت۔ اودا آیت دلیل دے چه دَنکاح دپاره دَ مال کفائت نیشته۔

[۳۳] ابتداء دَ دے ایت دَ مخکښ ایت سره تعلق لری، مطلب دا دے چه یوکس دَ نکاح وس نه لری دَ

ع ۴ مِّنَ الَّذِيْنَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِكُمْ وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿۳۴﴾ اَللّٰهُ نُوْرُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ مَثَلُ نُوْرِهٖ كَمِشْكٰوةٍ

دَ هغه کسانو نه چه تیر شویدی ستاسو نه مخکښ او وعظ دپاره دَ متقیانو دے (۳۴) اللّٰه تعالیٰ نُور دَ اسمانونو اودَزمکے دے حال دَ نوردَ توحید دَ هغه (په زړه دَ مؤمن مبلغ کښ) پشان دَ طاقچے دے

فقیرئے دَ وجے یا دَ نورو اسبابوپه وجه نوعفت اوپاکدامنی دے نه بربادوی اوحدیث صحیح کښ ئے دَ هغے طریقه خودلے ده په روژه نیولوسره فَعَلَيْهِ بِالصَّوْمِ فَاِنَّهٗ لَهٗ وِجَآءٌ بیا په دے ایت کښ نهم ادب دے دَپاره دَبندولوداسبابودَ بدکارئ۔ حاصل دا دے چه په کومه معاشره کښ مریان او وینځے ډیرے وی نوپه هغے کښ بدکاری ډیره پیدا کیږی ځکه چه هغوی پخپله وس اواختیاردَ نکاح نه لری اومولائے دَنکاح خیال نه ساتی نودین اسلام دَمریانووینځودَکمولومختلف طریقے بنائی (۱) هسے ازادول ئے ثواب ډیرلری (۲) په کفارودَکناهونوکښ ازادول (۳) په مدبّرکولو سره (۴) په مکاتب کولو سره هرکله چه انسان حرصناك دے دَعمل په عوض کښ مال غواړی دَ دے وجے نه په دے آیت کښ دَکتابت په طریقه دَ آزادولو امر ورکوی چه دایوادنی طریقه ده دَ ازادولو۔ کتابت دیته وئیلے کیږی چه دَمرئی یا وینځے په طلب یا بغیرَ طلب دَ هغوی مولی ورته اُوائی چه دومره عوض روپئے راوړه په قسطونوسره نوته به ازاد ئے نوهرکله چه هغه قسطونه پوره اداکړی نو ازاد به شی۔ په دے کښ دَمعاهدے اودَ قسطونو لیکل پکاردی نوځکه ورته کتابت وئیلے کیږی ﴿خَيْرًا﴾ دَ دے نه مراد ایمان دے اوورسره قدرت دَ هغه په کسب دَ مال باندے دے اوصلاحیت اوتقویٰ ﴿وَاٰتُوْهُمْ﴾ په دے کښ عام مسلمانان مخاطب دی چه هغوی دَ دهٗ سره په صدقه یاپه زکوة سره امداد اوکړی اومولاهم په دے خطاب کښ داخل دے چه دَ هغهٗ سره دے مالی امداد اوکړی۔ ﴿وَلَا تُكْرِهُوْا﴾ دا لسم ادب دے یعنی لونړه خویندے دَنکاح نه منع کول یا خپلے وینځے په زنا باندے دَ مال دَکسب کولودَپاره مجبوره کول لوئے سبب دَ بدکارئ دے دَ دے نه ځان بچ کول فرض دی۔ په ایت کښ دوه تفسیره دی اول داچه فتیات نه مراد وینځے دی اوبغاء نه مراد زناده تحصناً نه مراد ځان دَبدکارئ نه بچ کول دی ﴿عَرَضَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا﴾ نه مراد اجرت دَ زنا دے یعنی زورمکوئے په وینځوخپلودَ زناکولو، دَ دے دپاره چه په دے ذریعه سره مال اوکټے هرکله چه هغوی پاکدامنی غواړی په دے معنیٰ کښ اشکال دا دے اِن اَرَدْنَ تَحَصُّناً شرط دے نودَ شرط نه معلومیږی چه که پاکدامنی نه غواړی نوبیا په هغوی اکراه دَ زناکولو جائز ده؟ جواب اول دا دے اِن په معنیٰ دَ اِذ دے، دویم جواب دا دے چه اکراه هله راځی چه هغوی تحصن غواړی کله چه دا وینځے په زنا رضاوی نوبیا خو معنیٰ دَاکراه پکښ نه راځی۔ دویم تفسیردا دے چه فتیات نه مراد لونړه خوئیندے دی اوبغاء نه مراد نکاح نه کول دی اوتَحَصُّناً نه مراد نکاح کول دی او عَرَضَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا نه مراد مال اخستل په عوض دَ نکاح کښ دَمهرپه نوم سره یا دَ رواج په طریقه سره یعنی کله چه مالدار سړے دَ دهٗ لورخورنه غواړی اودهٗ لره ډیرمال نه ورکوی نودے دغه لور خوربل چاله په نکاح نه ورکوی اودا سبب اوګرځی دَ هغے دَګناهونوکولودپاره۔

[۳۴] په دے ایت کښ ترغیب دے قرآن کریم ته عموماً اودے سورة ته خصوصاً دپاره دَعمل کولو یعنی احکام واضح اوښکاره دی او دَ مخکنو قومونو واقعات هم دَ عبرت دپاره دی ، او دَ وعظ او نصیحت

فِيهَا مِصْبَاحٌ ؕ اَلْمِصْبَاحُ فِيْ زُجَاجَةٍ ؕ اَلزُّجَاجَةُ كَاَنَّهَا كَوْكَبٌ دُرِّيٌّ يُّوْقَدُ مِنْ شَجَرَةٍ مُّبٰرَكَةٍ زَيْتُوْنَةٍ لَّا شَرْقِيَّةٍ وَّلَا غَرْبِيَّةٍ ۙ يَّكَادُ زَيْتُهَا يُضِيْٓءُ وَلَوْ لَمْ تَمْسَسْهُ نَارٌ ؕ نُوْرٌ عَلٰى نُوْرٍ ؕ يَهْدِى اللّٰهُ لِنُوْرِهٖ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَيَضْرِبُ اللّٰهُ الْاَمْثَالَ لِلنَّاسِ ؕ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿۳۵﴾ فِيْ بُيُوْتٍ اَذِنَ اللّٰهُ اَنْ تُرْفَعَ وَيُذْكَرَ

چه په هغے کښ چراغ وی او داچراغ په شیشه کښ وی داشیشه گویا کښ داستورے دے پرقیدونکے بله ولے شی (داچراغ دَتیلو) دَ اونے برکت والانه چه خونه دے نه ده نمر ته مخامخ اونه خالص په سوری باندے نزدے دی تیل دَهغے چه رنړا اوکړی اگرچه نه دے لگیدلے دَهغے سره اور رنړا ده دپاسه دَبلے رنړا هدایت ورکوی الله تعالیٰ دَ دے نور خپل نه هغه چاته چه اوغواړی اوبیا نوی الله تعالیٰ مثالونه خلقوته او الله تعالیٰ په هرشیز باندے پوهه دے (۳۵) په کورونو کښ چه حکم کړے دے الله تعالیٰ چه عزت اوکړے شی دَهغے او یاد کړے شی

خبرے پکښ هم شته او په دے باندے په عمل کولو سره تقویٰ حاصلیږی ﴿مُبَيِّنٰتٍ﴾ بَیِّنات اکثر استعمالیږی په احکامو دَ عقیده کښ او مُبَیِّناتٍ ، په اعمالو کښ ﴿مَثَلًا﴾ په دے کښ اشاره ده ذکردَ عذابونودَ مخالفینو ته۔ ﴿مَوْعِظَةً﴾ کښ اشاره ده بشارتونودَ متقیانوته۔

[۳۵] دَ دے ایت نه تر(۴۷) پورے څلورم باب دے په دے کښ دعویٰ دَ توحید اومثال دَمؤحد دے چه دعوت ورکوی توحیدته سرهٗ دَ اوصاف دَ اهل نورنه اوبشارت دَ هغوی، بیا دوه مثالونه دَ ظلمات والوچه کافران مشرکان دی بیا پنځه عقلی دلیلونه اوپه اخرکښ ترغیب۔ نوم دَ دے (۳۵) ایت (ایت النور) دے۔ ربط دَ مخکښ مضمون سره دا دے هرکله چه دفع اوشوه دَ ظلماتوچه ناکاره اعمال اواخلاق دی نواوس ترغیب ورکوی نورته۔ دارنګ هرکله چه دَ اخلاقو دَ خبیثین نه منع اوکړه نو اوس حال دَ طیّبین ذکرکوی۔ تشریح: دَالفاظودَ دے ایت داده ﴿اَللّٰهُ نُوْرُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ﴾ نوراسم دَ الله تعالیٰ دے دَ اسماء حسنیٰ دَ هغهٗ نه بغیردَ تشبیه اوتمثیل دَ مخلوق سره ۔ او دلالت کوی چه دَ اسمانونو او زمکو اومافیها پیداکونکے او دَ هغے تدبیر اونظام چلوؤنکے اوهدایت کوؤنکے یوالله تعالیٰ دے په دے معنیٰ کښ دَ هغه شریك نیشته نودا دعویٰ دَ توحید ده چه دَ هغے په مخالفت کښ منافقانوپه توحیدوالوبدنامے لګولے دی اولګوی نورختمول دَ دوی مقصد دے لیکن په دے مقصد کښ چرے نه کامیابیږی روستومثال دلالت کوی چه دَ دے نورمقابله څوك نشی کولے۔

چراغے راکه ایزد برفروزد هرآنکس تف زند ریشش بسوزد

﴿مَثَلُ نُوْرِهٖ﴾ دا نور غیردے دَ اول نورنه ځکه چه دلته په اضافت سره ذکرکړے دے اومضاف غیر وی دَ مضاف الیه نه پس مراد دَ دے نه هدایت دَ توحید اودَ ایمان دے دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه په زړه دَ مؤحدکښ بیا دغه مؤحد چه توحید اوایمان ته دعوت ورکوی نودا نورپه دنیاکښ مشهور شی ﴿لَا شَرْقِيَّةٍ وَّلَا غَرْبِيَّةٍ﴾ یعنی خالص په مشرق کښ نه وی چه همیشه په نمرکښ وی اوخالص په مغرب کښ نه وی چه همیشه په سوری کښ وی بلکه په درمیانے زمکه کښ وی یا داچه قریب وی مشرق ته نونمرترینه زر واوړی اوچه قریب وی مغرب ته نوسورے ترینه زر راغونډیږی بلکه درمیانه ځائے کښ ده نوتیل ئے صاف وی۔ تشریح دَ

فِيْهَا اسْمُهٗ ۙ يُسَبِّحُ لَهٗ فِيْهَا بِالْغُدُوِّ وَالْاٰصَالِ ﴿۳۶﴾ رِجَالٌ ۙ لَّا تُلْهِيْهِمْ تِجَارَةٌ وَّلَا بَيْعٌ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ وَ

په هغے کښ نوم دَ اللّٰه تعالیٰ تسبیح وائی هغه لره په دے کورونو کښ صبائی اوبیګائی (۳۶) سړی چه نه غافل کوی دوی لره سودا ګری اونه خرڅول دَ یاداشت دَ اللّٰه تعالیٰ نه او

مثال: سینه دَ مؤمن مشابه ده دَمشکوٰة سره او زړه دَ مؤمن مشابه دے دَ زجاجه سره۔ په شیشه کښ درے صفات دی (۱) نه ډیره سخته پشان دَګټے اونه ډیره نرمه پشان دَ خاورے یاتیے (۲) صفاوالے (۳) شفافت چه پورے را پورے ترینه څیزونه ښکاریږی دارنګ زړه دَ مؤمن نرم دے دَمؤمنانوسره۔ سخت دے په کافرانوباندے ﴿اَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ اَعِزَّةٍ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ﴾ ﴿اَشِدَّآءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَآءُ بَيْنَهُمْ﴾ اوزړه دَمؤمن صفا اوپاك دے دَشکونواوشبهاتونه اودَ شفافت دَ وجے نه علمونه او حکمتونه په زړه دَ مؤمن کښ تجلّی (روښانه) کیږی۔ اوایمان اوعقیده دَ مؤمن مشابه ده دَ مصباح سره چه سبب دَ رنړا دے ﴿كَاَنَّهَا كَوْكَبٌ دُرِّيٌّ﴾ یعنی څنګه چه شیشه کښ دارنړا پشان دَ ستوری چمکدار ده دارنګ ایمان په زړه دَ مؤمن کښ سبب دَ رسیدلودے مقصد ته په ټیرو کښ ﴿يُوْقَدُ مِنْ شَجَرَةٍ مُّبٰرَكَةٍ زَيْتُوْنَةٍ﴾ څنګه چه چراغ دَزیتون (خونه) دَ تیلونه بلیګی دارنګ ایمان دَمؤمن حاصل شویوی دَعلومودَ قرآن اودَ حدیث نه۔ اوکوم ایمان چه تقلیدی وی نوپه هغے کښ شکونه شبهات راځی دوام ئے نوی اوکوم ایمان چه دَ قرآن اوسنت نه ماخوذوی نوهغه دَ شك اوشبهے نه پاك وی اودائم وی۔ اوځنګه چه اونه دَ زیتون دَ درمیانه زمکے وی نودارنګ نزول دَ قرآن اوسنت هم په حجازمقدس کښ دے چه نه مشرقی ملك دے اونه مغربی ملك دے ﴿يَكَادُ زَيْتُهَا يُضِيْٓءُ وَلَوْ لَمْ تَمْسَسْهُ نَارٌ﴾ څنګه چه تیل دَ دغه ونے دَ زیتون بغیرد اورلګیدلونه چمك کوی دارنګ علمونه دَ قرآن اوسنت سره که څوك وربانده ایمان لری اوکه نه لری واضح اوصفادی ﴿نُوْرٌ عَلٰى نُوْرٍ﴾ څنګه چه دَتیلو دَ چمك سره دَ مصباح رنړا جمع شوه نو دارنګ دَ قرآن اوسنت سره چه دَعقل دَ دلیلونوتائیدچه یوځے شوے وی نوایمان پوره اوکامل دے وجه دَتشبیه دا ده څنګه چه دغه نورچه موصوف دے په داسے صفتونواوحالاتو سره غالب دے په ټولو ټیرو باندے او دَ لرے نه ښکاری اوچمك کوی او چه په زجاجه کښ بند دے نومړ کول ئے هم ګران دی نودارنګ مؤحد چه دَ توحید دعوت ئے دَ قرآن اوسنت په رنړاکښ شروع کړے دے مشهوردے په هرملك کښ اومؤمنان ورسره محبت کوی۔ اوخلق دَرنړا دَ دین حاصل کولودپاره د دهٔ خواته راځی اوپه ټولومخالفینو دَ دین باندے په حجت اوپه رعب سره غالب وی اومخالفین دَ دهٔ دَ مقابلے نه عاجزوی دَ دهٔ رنړا نشی ختم کولے ﴿يَهْدِى اللّٰهُ لِنُوْرِهٖ مَنْ يَّشَآءُ﴾ داسے هدایت اونور اللّٰه تعالیٰ خاص بندګانوته ورکوی۔

[۳۶] دا ایت تعلق لری دَ تیرشوی ایت سره۔ دَ مثال سره اودَممثل له سره، تعلق دَمثال سره دا دے چه دغه مشکوٰة چه په هغے کښ زجاجه ده او زجاجه کښ مصباح دے وی په مساجدوکښ اوپه دے کښ ترغیب دے چه په مساجدوکښ رنړاکول سبب دَ اجروثواب دے۔ اوتعلق دَ ممثل له سره داسے دے چه دعوت دَ توحید اوایمان وی په مسجدونواومرکزونودَ توحیداو مدارسودَدین کښ اومواضعو دَ دعوت اوتبلیغ کښ۔

فائده: په دے ایت کښ دَ مساجدو اودَ مرکزونودَ دین اداب ئے ذکر کړی دی۔ اول ادب ﴿اَنْ تُرْفَعَ﴾

إِقَامِ الصَّلٰوةِ وَإِيْتَآءِ الزَّكٰوةِ ۙ يَخَافُوْنَ يَوْمًا تَتَقَلَّبُ فِيْهِ الْقُلُوْبُ وَالْاَبْصَارُ ﴿٣٧﴾ لِيَجْزِيَهُمُ اللّٰهُ اَحْسَنَ مَا
عَمِلُوْا وَيَزِيْدَهُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ ؕ وَاللّٰهُ يَرْزُقُ مَنْ يَّشَآءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿٣٨﴾ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَعْمَالُهُمْ كَسَرَابٍ
بِقِيْعَةٍ يَّحْسَبُهُ الظَّمْاٰنُ مَآءً ؕ حَتّٰٓى اِذَا جَآءَهٗ لَمْ يَجِدْهُ شَيْـًٔا وَّوَجَدَ اللّٰهَ عِنْدَهٗ فَوَفّٰىهُ حِسَابَهٗ ؕ

دَ پابندئ کولو دَ مونځ نه او دَ ورکولو دَ زکوٰة نه ویره کوی دَ هغه ورځ نه چه کلهوړ به شی په هغې کښ زړونه او سترګې (۳۷) دپاره دَ دے چه بدله ورکړی دوی لره اللّٰه تعالیٰ خائسته بدله دَ عملونو دَ دوی او زیاتی ورکړی دوی لره دَ فضل خپل نه او اللّٰه تعالیٰ روزی ورکوی چاڅه چه او غواړی بے حسابه (۳۸) او هغه کسان چه کفر ئے کړے وی عملونه دَ دوی پشان دَ پرڤیدونکی شګے دی په میدان کښ چه ګمان کوی په هغې باندے تږے سړے دَ اوبو ترهغے پورے چه هرکله راشی هغې ته اونه مومی هغے لره هیڅ څیزاو اومومی اللّٰه تعالیٰ لره دَهغے په خوا کښ نو پوره به کړی دهٔ ته حساب دَ دهٔ

مراد دَ دے نه تعظیم دَ شان دَ مسجد اواحترام دَ هغے دے په هغه طریقوسره چه په احادیثو نبویه کښ ذکرکړے شوی دی بعض دا دی، صفائی کول، خوشبویه کول، دَ اوچت والی دَ اوازونونه بچ ساتل، دَ ورك څیز دپاره اوازنه کول، دَمړی په باره کښ اعلان نه کول دَتجارت اوصنعت کولونه محفوظ ساتل په داخلیدلوکښ خئے خپه مخکښ کول اوذکرمسنون کول او را وتلوکښ ګسه خپه مخکښ کول اوذکرمسنون کول وغیره دَ آدابو لحاظ ضروری دے ﴿وَيُذْكَرَ فِيْهَا اسْمُهٗ﴾ په دے کښ قرآن لوستل اودرس دَ حدیث اودَ علومودینیو کول اودعوت اوتبلیغ کول اوذکریه شرعی طریقه کول ټول داخل دی اودا جمله ئے دَ ترفع نه روستوځکه ذکرکړله چه اصل تعظیم دَ مساجدو په ذکرَ اسم دَ اللّٰه تعالیٰ سره دے۔ ﴿يُسَبِّحُ لَهٗ﴾ تیرشوے ادب په مسجد پورے خاص وؤ اوتسبیح عام عمل دَ مؤحد اودَ مؤمن دے چه هغه په اصل کښ ابادی دَ مسجد ده اوتسبیح نه مراد مونځونه کول اودَ اللّٰه تعالیٰ دَتوحیدکلمات په ژبه لوستل اوهغے ته دعوت ورکول دی۔

[۳۷] په دے آیت کښ دَ اصحاب نور(دعوت کوونکی نورته) شپږصفات ذکرکړی دی (۱) ﴿رِجَالٌ﴾ مراد دَ دے نه کمال رجولیت دے یعنی بهادران دی، اوتخصیص دَ رجال ځکه شویدے چه په مساجدوکښ مونځ اوتسبیح کول کمال دَپاره دَ نارینه دے اودَ زنانه مونځ په خپل کورکښ بلکه دننه په کمره کښ پوره اجروثواب لری (۲) ﴿لَا تُلْهِيْهِمْ﴾ یعنی حلال کسب دنیوی کوی اوهرکله چه بهترکسب تجارت دے نودَ دے وجے نه تخصیص ئے اوکړو لیکن په کسب سره دَ اللّٰه تعالیٰ دَ دین نه غافل کیږی نه عمل کوی په سورة منافقون (۹) باندے (۳)﴿عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ﴾ یعنی اللّٰه تعالیٰ یادوی په طاعت کولوسره (٤)﴿وَاِقَامِ الصَّلٰوةِ﴾ یعنی دَمونځ پابندوی (٥)﴿وَاِيْتَآءِ الزَّكٰوةِ﴾ یعنی زکوٰة ورکوؤنکی دی (٦)﴿يَخَافُوْنَ﴾ دَ قیامت دَ حساب وکتاب وغیره نه ویره کوی اودَ قیامت داسے هیبت په ځم مؤمن (۱۸) کښ او سورة ابراهیم (٤٢) کښ ذکر دے۔

[۳۸] په دے ایت کښ بشارت دے ﴿اَحْسَنَ مَا عَمِلُوْا﴾ دلته احسن مقابل دَ حسن نه دے بلکه هرعمل چه په اخلاص او اتباع سنت سره وی نوهغه احسن دے ﴿وَيَزِيْدَهُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ﴾ مراد دَ دے نه زیادت دَ جزاء

وَاللّٰهُ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ﴿۳۹﴾ اَوْ كَظُلُمٰتٍ فِيْ بَحْرٍ لُّجِّيٍّ يَّغْشٰهُ مَوْجٌ مِّنْ فَوْقِهٖ مَوْجٌ مِّنْ فَوْقِهٖ سَحَابٌ ؕ ظُلُمٰتٌۢ بَعْضُهَا فَوْقَ بَعْضٍ ؕ اِذَاۤ اَخْرَجَ يَدَهٗ لَمْ يَكَدْ يَرٰىهَا ؕ وَمَنْ لَّمْ يَجْعَلِ اللّٰهُ لَهٗ نُوْرًا فَمَا لَهٗ

او اللّٰه تعالیٰ زر حساب کوونکے دے (۳۹) بل مثال دَ دوی پشان دَ ډیرو تیَرو دے په دریاب ډونګی کښ چه پټ کړے وی هغه لره چپے د پاسه ترینه بله چپه وی د پاسه ترینه وریځ وی تیرے دی بعضے دپاسه دَ بعضو نه هرکله چه را اوباسی دے لاس خپل نزدے نه ده چه هغے لره اُوینی او هغه څوك چه ورنکړی اللّٰه تعالیٰ هغه ته نور نو نیشته هغه لره

دَ نیك عمل دے دَ لس چندونه زیات چه دَ هغے اندازمعلوم نه دے یا دا چه دَ اعمالودَ عوض نه علاوه زیاتی هم ورکوی ﴿وَاللّٰهُ يَرْزُقُ﴾ دَ دے نه مراد رزق دَ جنت دے چه دَ هغے حساب نیشته او اندازے هم نیشته۔

[۳۹] روستودَ مثال دَ اهل نورنه مثالونه دَ اصحاب ظلمات ذکرکوی اول مثال دَ اعمال صالحه (په اعتبارد ظاهرسره) او اعمال دَ خیرد مشرك دے لکه مونځونه صدقات روژے یا احسانات کول دَ مخلوق سره لیکن ور سره ئے شرك ګډکړے دے او دویم مثال دَ بدواعمالواوظلمونه کول دَ مشرك اوکافر دی یا دا چه اول مثال دَ هغه کافرانومشرکانو دے چه دعوت ورکوی شرك اوکفرته یعنی مقتدا دَکافرانودی اودویم مثال دَمشرکانوجاهلانودے چه تقلید شرکی کوی۔ دا دویمه توجیه تفسیر ابن کثیر ذکرکړے ده۔ تشریح: دَ مثال اول دا ده ﴿كَسَرَابٍ﴾ سراب دیته وائی چه په غرمه دَ موسم دَ اوړی کښ صحراء او میدان ته انسان نظرکوی نودَ لرے نه هغه ته اوبه ښکاریږی لیکن هغه اوبه نه وی دارنګ ریګستان ته په غرموکښ نظرکوی نودَ شکودَ چمك دَ وجے نه اوبه ښکاریږی هغے ته عرف کښ شګے ګل وائی یعنی سراب نوم دَ معدوم شی دے ﴿بِقِيْعَةٍ﴾ صاف میدانونوته وائی ﴿حَتّٰۤى اِذَا جَآءَهٗ لَمْ يَجِدْهُ﴾ دا ضمیرونه راجع دی سراب ته یا دا ضمیرونه عمل دَکافرته راجع دی یعنی عمل به ئے بربادوی ﴿وَوَجَدَ اللّٰهَ عِنْدَهٗ﴾ بنا په اوله توجیه باندے په کلام کښ تقدیردے یعنی(لم یجده شیئاً فکذالك الکافرلایجد من جزاء عمله شَیْئًا بل وجد اللّٰه عنده) اوبنا په دویم توجیه باندے تقدیرته حاجت نیشته اوعنده ضمیرعمل ته راجع دے او مراد دادے چه دَ اللّٰه تعالیٰ سره به مخامخ شی په وخت دَ جزاء دَ عمل دَ دهٔ کښ۔ تطبیق دَ مثال دا دے څنګه چه دغه ګمان کوؤنکے دَ اوبوچه ترے دے په سراب پسے منډے اؤهی اومحنت اوکړی لیکن هغه محنت ئے بے فائدے شی دارنګ کافرمشرك دَ نیکوعملونوکوشش کړے دے اوګمان ئے دا دے چه په دے باندے ثواب اوجنت ملاویګی لیکن دَ جنت نه په سبب دَ شرك سره محروم شی اومحنت ئے بربادشی۔ دارنګ مقتدا دَکفر اوشرك چه په دعوت دَکفراوشرك سره اقتداراو عزت دَ دنیائے حاصل کړے دے دَ دهٔ خیال دادے چه په اخرت کښ به هم مالره عزت حاصل شی لیکن په ورځ دَ حساب دا ګمان به ئے غلط ثابت شی۔

مِنْ نُّوْرٍ ۝ اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ يُسَبِّحُ لَهٗ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَالطَّيْرُ صٰٓفّٰتٍ ؕ كُلٌّ قَدْ عَلِمَ صَلَاتَهٗ وَ
تَسْبِيْحَهٗ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِمَا يَفْعَلُوْنَ ۝ وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ وَاِلَى اللّٰهِ الْمَصِيْرُ ۝ اَلَمْ تَرَ اَنَّ

هیڅ نور (٤٠) ایا ته ګورے نه چه یقیناً اللّٰه تعالیٰ تسبیح وائی هغه لره هغه ځوك چه په اسمانونو کښ دی او زمکه کښ دی او مارغان غوړ ؤو نکی دَ وزرو دی هریو ښه پیژنی اللّٰه تعالیٰ مونځ دَ هغه او تسبیح وئیل دَ هغه او اللّٰه تعالیٰ پوهه دے په هغه کارونو چه دوی ئے کوی (٤١) او خاص اللّٰه تعالیٰ لره ده بادشاهی دَ اسمانونو او دَ زمکے او خاص اللّٰه تعالیٰ ته دی ورګرځیدل (٤٢) ایا ته نه ګورے چه یقیناً

[٤٠] دامثال دَ دویم قسم اصحاب ظلمات دے چه جاهلان مقلدین دی یا مثال دے دَ بدواعمالودَ مشرکانو۔ تطبیق دَ مثال داسے دے لکه چه یو کس په سمندر ډونګی کښ وی دا یوظلمت دے۔ راګیرکړے وی یوموج دادویم ظلمت دے دپاسه نه بل موج وی دا دریم ظلمت دے دپاسه پرے وریځے دی داځلورم ظلمت دے په داسے ظلماتو کښ دے دَ ځان نه هم خبرنه وی خپل لاس هم نشی لیدلے دارنګ داکافرپه ظلمت دَجهل کښ دے بیا په جهل باندے هم نه پوهیږی دابل ظلمت دے بیادے په ظلمت دَ تقلیدکښ دے اودَ دهٔ امام پیشوا هم جاهل مشرك اومبتدع وی دا بل ظلمت دے، دے دَ ځان دَپاره هیڅ لاردَ نجات نشی موندلے ځکه چه اللّٰه تعالیٰ دهٔ ته نورنه ورکوی نوبل ځوك به ئے څه ورکړی۔ دویمه طریقه دَ مثال: چه یوظلمت دَ شرك دے بل ظلمت دَ انکارجهلی یا عنادی دے دریم ظلمت دَ فسق وفجوردَ اعمالواواخلاقو دے ځلورم ظلمت په خلقوباندے دَ ظلمونو کولودے اوبیا هم دهٔ ته خپل ګناهونه محسوس کیږی نه۔ دَ دے وجے نه نوردَ اللّٰه تعالیٰ دَطرف نه نهٔ ورکیږی ﴿لِّحَيٍّ﴾کښ اشاره ده چه دَ لاندے طرف نه دَ ظلمتونو انتهانه ده معلوم ﴿مِنْ فَوْقِهٖ سَحَابٌ﴾ په دے کښ اشاره ده چه نمر، سپوږمئی دَ ستورو رنړا هم دَ دهٔ دَ سترګونه په وریځو سره بنده ده ﴿اِذَآ اَخْرَجَ يَدَهٗ﴾ انسان ته خپل لاس دَ نظرکولودپاره ډیر نزدے وی لیکن هغه هم نشی لیدلے نوبل هیڅ څیز لیدلے نشی۔

[٤١] دَ نوردَحاصلولواوظلماتونه دَ بچ کیدلودپاره عقلی دلیلونه په توحید باندے ذکرکوی، دا اول دلیل دے ﴿صٰٓفّٰتٍ﴾ په دے حال کښ مارغان ښکاریږی انسانانوته ځکه ئے خاص ذکرکړل یاپه داسے وخت کښ مارغان ډیره تسبیح وائی ﴿كُلٌّ قَدْ عَلِمَ صَلَاتَهٗ وَتَسْبِيْحَهٗ﴾ صلات متعلق دے دَ ملائکو او جناتو او انسانانو سره اوتسبیحَهٗ متعلق دے په مارغانوپورے یا تسبیح بیان دے دَ صلات او ﴿قَدْعَلِمَ﴾کښ ضمیر راجع دے اللّٰه تعالیٰ ته یعنی اللّٰه تعالیٰ دَ هرچا په صلات اوتسبیح باندے عالم دے ځکه وریسے عموم دَ علم دَ اللّٰه تعالیٰ ذکرکړو دا توجیه غوره ده یا ضمیردَ علم راجع دے دغه مخلوق ته یعنی هریودَ ملائکو او جناتواو انسانانواو مارغانونه دَ صلاة اودَ تسبیح پوهه لری په هغه طریقه چه اللّٰه تعالیٰ ورته خودلے ده۔

[٤٢] دا دویم دلیل عقلی دے اوپه اسم دَ اللّٰه تعالیٰ باندے دوه کرته تصریح دپاره دَ تاکید ده۔

اللّٰهَ يُزْجِيْ سَحَابًا ثُمَّ يُؤَلِّفُ بَيْنَهٗ ثُمَّ يَجْعَلُهٗ رُكَامًا فَتَرَى الْوَدْقَ يَخْرُجُ مِنْ خِلٰلِهٖ ۚ وَيُنَزِّلُ
مِنَ السَّمَآءِ مِنْ جِبَالٍ فِيْهَا مِنْۢ بَرَدٍ فَيُصِيْبُ بِهٖ مَنْ يَّشَآءُ وَيَصْرِفُهٗ عَنْ مَّنْ يَّشَآءُ ۭ يَكَادُ سَنَا بَرْقِهٖ
يَذْهَبُ بِالْاَبْصَارِ ﴿٤٣﴾ يُقَلِّبُ اللّٰهُ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّاُولِي الْاَبْصَارِ ﴿٤٤﴾ وَاللّٰهُ خَلَقَ
كُلَّ دَاۗبَّةٍ مِّنْ مَّاۗءٍ ۚ فَمِنْهُمْ مَّنْ يَّمْشِيْ عَلٰي بَطْنِهٖ ۚ وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّمْشِيْ عَلٰي رِجْلَيْنِ ۚ وَمِنْهُمْ مَّنْ
يَّمْشِيْ عَلٰٓي اَرْبَعٍ ۭ يَخْلُقُ اللّٰهُ مَا يَشَاۗءُ ۭ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿٤٥﴾ لَقَدْ اَنْزَلْنَآ اٰيٰتٍ مُّبَيِّنٰتٍ ۭ وَاللّٰهُ
يَهْدِيْ مَنْ يَّشَاۗءُ اِلٰي صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿٤٦﴾ وَيَقُوْلُوْنَ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَبِالرَّسُوْلِ وَاَطَعْنَا ثُمَّ يَتَوَلّٰى فَرِيْقٌ

اللّٰه تعالیٰ راشړی وریځے بیا جوړخ راولی په مینځ دَ ټکړو دَ هغے کښ بیا اوګرځوی هغه لاندے باندے (غټه) نو وینے ته غټ باران چه راؤځی دَ مینځ دَ هغے نه او راوروی اللّٰه تعالیٰ دَ اسمان دَ طرف نه دَ (وریځونه) چه په شان دَ غرونو دی وی په هغے کښ ځینے دَ ګڼلئی نه نو رسوی دے لره هغه چاته چه اوغواړی او اړوی دَ هغه چانه چه اوغواړی نزدے وی پرق دَبریښنا دَ هغه چه اوتختوی نظرونو لره (٤٣) بدلوی رابدلوی اللّٰه تعالیٰ شپه اوورځ لره یقیناً په دے نظام کښ خامخا عبرت دے عقلونو والو لره(٤٤) او اللّٰه تعالیٰ پیدا کړے دے هر زنده سر دَ اوبونه (نطفه) نو بعضے هغه دی چه ګرځی په خپله خپله باندے او بعضے هغه دی چه ګرځی په دوه خپو باندے او بعضے هغه دی چه ګرځی په څلورو (خپو) باندے پیدا کوی اللّٰه تعالیٰ هغه څه چه اوغواړی یقیناً اللّٰه تعالیٰ په هر څیز باندے قدرت لری (٤٥) یقیناً نازل کړیدی مونږ ایاتونه ښکاره مضمون والا او اللّٰه تعالیٰ رسوی چاله چه اوغواړی لارے نیغے ته (٤٦) او وائی دوی (منافقان) چه ایمان راوړے دے مونږ په اللّٰه تعالیٰ او په رسول باندے او تابعداری کؤو مونږ بیا مخ لروی یوه ډله

[٤٣] دا دریم عقلی دلیل دے په ذکرد احوالومتوسطوسره په دے کښ وریځے جوړول اودَ هغے نه باران راورول اوګلئے راورول اوچاته رسول اودَ چانه اړول اوتیزی دَ بریښنا دَ بجلئی ئے ذکر کړے ده ﴿يُزْجِيْ﴾ دَ زمکے او دَ خوا اواطرافونه اجزاء راپورته کولوته ازجاوائی ﴿جِبَالٍ﴾ دا استعاره ده ذکرد مشبه به اومراد ترینه مشبّه ده یعنی وریځے چه پشان دَ غرونو غټے وی اوپه دے ایت کښ بیان دَ ملك اودَ تصرف دَ اللّٰه تعالیٰ دے په بارانونو وغیره پیداکولو سره۔

[٤٤] دا څلورم دلیل دے په ذکرد نورواحوال متوسطو سره په دے کښ ذکرد ملك اوتصرف دَ اللّٰه تعالیٰ دے په زمانه او زمانیاتو کښ۔

[٤٥] دا پنځم دلیل عقلی دے په ذکرد احوالوسفلیوسره یعنی احوال دَ زمکے والو سره۔ په اعتبار دَ ګرځیدلو سره په زمکه باندے درے قسمه دی په خپله باندے ګرځی لکه مار، په دوؤ خپوباندے ګرځی لکه انسان، مارغان په څلورخپوباندے ګرځی لکه عام ځناور ﴿يَخْلُقُ اللّٰهُ مَا يَشَاۗءُ﴾ کښ زیاتوخپوته اشاره ده لکه زنره (هزارپائے ورته وائی) عنکبوت وغیره لیکن معلومه داده چه دوی هم په څلورو خپو باندے ګرځی نو دَ دے وجے نه ئے دا مستقل قسم شمار کړے نه دے۔

[٤٦] دا ترغیب دے قرآن ته او امتثال دَ دے احکاموته اوهرکله چه تیرشوی ایاتونو کښ دَ عقیدے دَ

مِّنْهُمْ مِّنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ ؕ وَمَاۤ اُولٰٓئِكَ بِالْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٤٧﴾ وَاِذَا دُعُوْۤا اِلَى اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ اِذَا
فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ مُّعْرِضُوْنَ ﴿٤٨﴾ وَاِنْ يَّكُنْ لَّهُمُ الْحَقُّ يَاْتُوْۤا اِلَيْهِ مُذْعِنِيْنَ ﴿٤٩﴾ اَفِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ اَمِ ارْتَابُوْۤا
اَمْ يَخَافُوْنَ اَنْ يَّحِيْفَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ وَرَسُوْلُهٗ ؕ بَلْ اُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿٥٠﴾ اِنَّمَا كَانَ قَوْلَ الْمُؤْمِنِيْنَ ع ١٠

دَ دوی نه روستو دَ دے نه اونه دی دغه کسان مؤمنان (٤٧) او کوم وخت چه اوبللے شی دوی اللّٰه تعالیٰ او رسول دَ هغه ته دَ دے دپاره چه فیصله اوکړی په مینځ دَ دوی کښ دغه وخت یوډله دَ دوی نه مخ ګرځوی (٤٨) اوکه چرے وی دَ دوی دپاره فائِده (دنیوی) رائی هغے ته زر قبلونکی (٤٩) ایا دَ دوی په زړونو کښ مرض دے بلکه دوی سه شکیان دی بلکه ویریکی چه ظلم به اوکړی اللّٰه تعالیٰ په دوی باندے اورسول دَهغه بلکه دغه کسان دوی ظالمان دی (٥٠) یقیناً ده وینا دَ مؤمنانو

توحید ذکراوشوځکه دَ دے اختتام ئے په ذکردَ صراط مستقیم سره اوکړو۔

[٤٧] دَ دے ایت نه پنځم باب ترآخردَ سورة پورے دے په دے کښ مقابله ده دَ صفاتودَ منافقانواودَ صفاتودَ مؤمنانواو زجرونه منافقینوته اوبشارتونه اخروی او دنیویه مؤمنانوته بیا درے اداب دی دَپاره دَ دفع دَ حرج دَ مؤمنانونه بیا اخرکښ مقابله ده دَ صفتونودَ مؤمنانواومنافقانواو زجراوتخویف دے منافقوته اواختتام دَ سورة په مسئله دَ توحید سره دے۔

[٤٨،٤٩،٥٠] دَ نوردَ توحید ذکرکولونه روستوهغه منافقانوته زجرونه ورکوی چه دَ دے نوردَ مړکولوکوششونه کوی په دے ایاتونوکښ دَ منافقانونهه صفات ذکرکړی دی په اول ایت کښ درے صفتونه دویم ایت کښ یوصفت، دریم ایت کښ یوصفت ځلورم ایت کښ ځلورصفتونه ﴿ثُمَّ يَتَوَلّٰى﴾ مطلب دادے چه عملونه دَمقتضیٰ دَ ایمان نه مخالف کوی ﴿مُذْعِنِيْنَ﴾ په تلوار سره قبلوونکی دی لیکن دا قبولیت دَ حق پرستے دَ وجے نه نهٔ دے بلکه دَ مفاد پرستئے اوخواهش پوستئ په وجے سره دے اودَ دے صفت مصداق په دے زمانه کښ هغه خلق دی چه په یومعامله کښ دَ قرآن اوسنت(شرعی) فیصلے ته را اوبللے شی نوکه فائده اوګټه ئے نه وی نووائی چه مونږدَملك په قانون (غیرشرعی) باندے عمل کوؤاوکه فائده اوګټه ورته ملاویږی نووائی چه ځه په شریعت فیصله کوؤم۔ دارنګ هغه ملایان چه متعصب مقلدین دی چه قرآن اوسنت په مقابله کښ فقهی روایات بے دلیله منی او وائی چه مقلد باندے قرآن اوسنت ته رجوع منع ده او وائي ځکه چه مشران زمونږنه بنه پوهیدل اوکه دَ دوی څه مفاد پکښ بنکاریږی، نوبیا په قرآن اوسنت باندے حوالے ورکوی ﴿مَرَضٌ﴾ دَ دے نه مراد ضعف دَ ایمان دے اَم په معنیٰ دَبَل سره دے﴿ارْتَابُوْۤا﴾یعنی دَقرآن اوسنت په احکاموکښ شك کوی اودا زوال دَایمان دے﴿اَمْ يَخَافُوْنَ﴾ یعنی بلکه فیصلودَ قرآن اوسنت ته نسبت دَ ظلم او وحشیت کوی لکه وائی چه حد شرعی دَ زنا اوغلا وغیره ظلم یا وحشی سزاګانے دی او داسے ویل عین کفردے ﴿بَلْ اُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ﴾ کښ اشاره ده چه دَ قرآن اوسنت په فیصلو کښ هیڅ ظلم نیشته بلکه دَ دے مخلوق په خود ساخته قوانینواو رواجونوکښ صریح ظلم دے۔

اِذَا دُعُوْٓا اِلَى اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ اَنْ يَّقُوْلُوْا سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا ؕ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿٥١﴾
وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَيَخْشَ اللّٰهَ وَيَتَّقْهِ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفَآئِزُوْنَ ﴿٥٢﴾ وَاَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ جَهْدَ
اَيْمَانِهِمْ لَئِنْ اَمَرْتَهُمْ لَيَخْرُجُنَّ ؕ قُلْ لَّا تُقْسِمُوْا ۚ طَاعَةٌ مَّعْرُوْفَةٌ ؕ اِنَّ اللّٰهَ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿٥٣﴾ قُلْ
اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ ۚ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنَّمَا عَلَيْهِ مَا حُمِّلَ وَعَلَيْكُمْ مَّا حُمِّلْتُمْ ؕ وَاِنْ تُطِيْعُوْهُ

کله چه اوبللے شی اللّٰه تعالیٰ او رسول دَ هغه ته دپاره دَ دے چه فیصله اوکړی دَ دوی په مینځ کښ چه وائی دوی واؤریده مونږه او تابعداری کؤو مونږ او دغه کسان دوی بچ کیدونکی دی (٥١) او چاچه تابعداری اوکړه دَ اللّٰه تعالیٰ او دَرسول دَ هغه او ویریګی دَ اللّٰه تعالیٰ نه (په باره دَ تیر شؤو عملونو کښ) او تقویٰ کوی په راتلونکو عملونو کښ نودغه کسان دوی کامیاب دی (٥٢) او قسمونه کړیدی دوی په اللّٰه تعالیٰ باندے کلك قسمونه خپل که چرے ته حکم اوکړے دوی ته خامخا دوی به اوځی ته اُوایه قسمونه مکوئ تابعداری ستاسو معلومه ده یقیناً اللّٰه تعالیٰ خبردار دے په هغه کارونو چه تاسو کوئ (٥٣) اُوایه تابعداری کوئ دَ اللّٰه تعالیٰ اوتابعداری کوئے دَ رسول پس که مخ اوګرځؤو تاسونو یقیناً دَ هغه په ذمه باندے هغه کاردے چه هغه ته سپارلے شوے دے اوپه تاسو باندے هغه دے چه تاسوته سپارلے شوے دے او که تابعداری اوکړئ دَ دهٔ

[٥٢،٥١] په دے ایاتونوکښ ذکرَ شپږصفاتواو احوالوَ مؤمنانودے دپاره دَ فرق بښکاره کیدلوَ منافقانونه او بشارت دے دوی لره په فلاح اوفوز سره۔ فرق دَ دے په مینځ کښ دا دے چه (فلاح نیل الخیر والنفع الباقی اثرهٔ) حاصلول دَ خیراو دَ داسے فائدے چه اثرئے باقی اوهمیشه وی اوفوز(الخلاص من المکروه مع الوصول الی المحبوب) بچ کیدل دَ مصیبت نه اومقصدته رسیدل (ازکتاب الفروق اللغویة لابی هلال العسکری) هرکله چه اول صفت دَجنت دَ حصول دپاره کافی دے ځکه چه نفس ایمان دے نوهغے سره فلاح ذکرشوه اوپه دویم ایت کښ پوره ایمان سرهٔ دَ امتثال دَ اوامرو اواجتناب دَ منهیاتونه ذکردے نو هغه سبب دَپوره کامیابئے دے چه هغے ته فوزوائی نودَ دے وجے نه هغے سره ئے فوز ذکرکړے دے۔ ﴿وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ﴾ کښ اشاره ده دَماموراتودَتابعدارئے او ﴿يَخْشَ اللّٰهَ﴾ په باره دَهغه اعمالوکښ دے چه مخکښ ئے کړیدی دَهغے دَ سزانه ویریګی ﴿وَيَتَّقْهِ﴾ په باره دَ هغه عملونوکښ دے چه په اُئنده ژوند کښ ئے کوی دَ مخالفت دَ اللّٰه اورسول نه ځان ساتی۔

[٥٣] په دے ایت کښ زجردے منافقانوته اودَ هغوی لسم صفت ذکرکوی یعنی هرکله چه په فرق بیانیدلو سره دوی بے اعتباره شول نو دَ دے وجے ډیر تاکیدئے شروع کړو په قسم کولو سره په نوم دَ اللّٰه تعالیٰ باندے ځکه چه قسم په غیر اللّٰه باندے دوی په عام حالاتوکښ کوؤلیکن قسم کول په نوم دَ اللّٰه تعالیٰ سره دَ دوی په نیزباندے مضبوط قسم وؤ ﴿لَيَخْرُجُنَّ﴾ یعنی ته مونږته حکم کوے نومونږستا په تابعداریٔ کښ دَکورونواواهل وعیال اومالونونه اوځو اوستاحکم منو یامراد داچه دَ جهاد دپاره اوځو ﴿طَاعَةٌ مَّعْرُوْفَةٌ﴾ دَ دے اوله معنیٰ دا ده چه شرعی طاعت کول دَ قسم کولونه غوره دے، دویم داچه لازم دے په تاسوباندے طاعت شرعیه، دریمه معنیٰ دا ده ستاسو طاعت معلوم اومشهور دے چه هغه طاعت

تَهْتَدُوْا ؕ وَمَا عَلَى الرَّسُوْلِ اِلَّا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿٥٤﴾ وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ
لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْاَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۪ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِيْنَهُمُ الَّذِي ارْتَضٰى لَهُمْ
وَلَيُبَدِّلَنَّهُمْ مِّنْۢ بَعْدِ خَوْفِهِمْ اَمْنًا ؕ يَعْبُدُوْنَنِيْ لَا يُشْرِكُوْنَ بِيْ شَيْـًٔا ؕ وَمَنْ كَفَرَ بَعْدَ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ
الْفٰسِقُوْنَ ﴿٥٥﴾ وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴿٥٦﴾ لَا تَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

نو هدایت به اومومئ او نیشته په رسول باندے مګر رَسُول دی بنکاره (٥٤)وعده کړے ده الله تعالی دَهغه چاسره چه ایمان ئے راوړے دے ستاسو نه اوعملونه ئے کړیدی نیك (په تابعداریٔ دَنبی سره) خامخا خلافت به ورکوی دوی لره په دنیا کښ لکه چه خلافت ئے ورکړے ؤو هغه کسانو ته چه دَ دوی نه مخکښ ؤو او خامخا کلك به کړی دوی لره دین دَ دوی هغه چه غوره کړے دے دَ دوی دپاره اوخامخا بدل به کړی دوی لره روستو دَ ویرے دَ دوی نه امن په داسے حال چه بندګی کوی زما شریك نه جوړوی ماسره هیڅ شیز اوچاچه کفر اوکړو روستو دَ دے نه نو دغه کسان دوی نافرمان دی (٥٥) او پابندی کوئ دَ مونځ او ورکوئے زکوٰة او تابعداری کوئے دَرسول دَ دے دپاره چه رحم اوکړیشی په تاسو باندے (٥٦) ګمان مه کوه په هغه کسانو باندے چه کفرئے کړے دے

دے دَخپل مفاد اوخواهش دَپاره لکه چه مخکښ تیرشو۔

[٥٤] په دے کښ دعوت دَ اطاعت کامله دے منافقینوته په اخلاص اوپه ترك دَ منافقت سره اونقصان دَ تولّی(طاعت پریخودل) ئے ذکرکړے دے په فان تولواآه سره﴿مَاحُمِّلَ﴾نه مراد دعوت اوتبلیغ اوادائیګی دَ خپلوفرائضو ده ﴿مَاحُمِّلْتُمْ﴾ نه مراد قبلول دَ احکاموا وتابعداری دَ رسول ﷺ اواکرام دَ هغه دے اوفائده دَ اطاعت ئے ذکرکړیده په وان تطیعوا سره دَ دے نه معلومه شوه چه په غیرَ تابعداریٔ دَ نبی ﷺ هدایت نه حاصلیږی نوهغه پیران چه دَ ځان نه ئے طریقت اوحقیقت جوړکړیدے او وائی چه شریعت جدا دے او طریقت جدا دے اوهغه بدعتیان چه دَ ځان نه عقیدے اواعمال جوړوی اودَ هغے ثوابونه ذکرکوی دا ټول ګمراهان دی دَ دوی سره هدایت نیشته۔

[٥٥] په دے ایت کښ بشارت دنیویه دے مؤمنانولره۔ یعنی دَ اجراء دَ احکامو اوقوانینودَ دے سورة دپاره به الله تعالی مؤمنانوته خلافت ورکوی اوپه هغے کښ تذلیل رائجی دَ منافقانواوپه ایت کښ درے اسباب دَ بشارت ئے ذکرکړیدی۔ ایمان، عمل صالح، عبادت دَالله تعالی دَهرقسم شرك نه خالی، اودرے بشارتونه ئے ذکرکړیدی استخلاف، تمکین دَ دین اسلام، امن، مقصد دَخلافت نه غالب کول دَ دین اسلام دی اوغلبه دَ دین اسلام سبب دَ امن دے نوځکه ئے په ترتیب سره ذکرکړل او هرکله چه کفر لوئے سبب دَ خروج دَ طاعت دَ الله تعالی دے چه هغه فسق دے او فسق سره دَ خلافت زوال رائجی دَ دے وجے نه دَ ایت اختتام کښ الفَاسِقُونَ ئے ذکرکړو ﴿الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ﴾ نه مراد بنی اسرائیل دی روستودَ هلاکت دَ فرعون نه دَ هغوی خلافت شروع شوے وو اوزمانه دَ داؤد اوسلیمان علیهما السلام پکښ دَخلافت بهترمثال دے۔

فائده: دَمنکم لفظ دلالت کوی چه دا وعده دَ هرمؤمن سره نیشته دَ بعضو مؤمنانو سره دَ ارادے دَ الله تعالی په موافق ده بیا دا وعده دَ نبی ﷺ دَ وخت نه شروع شوه په ژوند دَ نبی ﷺ کښ اسلام غالب شو په

مُعْجِزِيْنَ فِي الْاَرْضِ ۚ وَمَاْوٰىهُمُ النَّارُ ۭ وَلَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ۝ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لِيَسْتَاْذِنْكُمُ الَّذِيْنَ
مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ وَالَّذِيْنَ لَمْ يَبْلُغُوا الْحُلُمَ مِنْكُمْ ثَلٰثَ مَرّٰتٍ ۭ مِنْ قَبْلِ صَلٰوةِ الْفَجْرِ وَحِيْنَ تَضَعُوْنَ
ثِيَابَكُمْ مِّنَ الظَّهِيْرَةِ وَمِنْۢ بَعْدِ صَلٰوةِ الْعِشَاۗءِ ۭ ثَلٰثُ عَوْرٰتٍ لَّكُمْ ۭ لَيْسَ عَلَيْكُمْ وَلَا عَلَيْهِمْ جُنَاحٌۢ
بَعْدَهُنَّ ۭ طَوّٰفُوْنَ عَلَيْكُمْ بَعْضُكُمْ عَلٰي بَعْضٍ ۭ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ الْاٰيٰتِ ۭ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ۝

بچ کیدونکی دَ عذاب دَ اللّٰه تعالیٰ نه په زمکه کښ اوځائے دَ دوی اوردے اوخامخا ناکاره ځائے دَ ورتللو دے (٥٧) اے ایمان والو پکار دی چه اجازت غواړی ستاسو نه هغه کسان چه مالك دی پرے ځی لاسونه ستاسواو هغه کسان چه نه دی رسیدلی بلوغ ته ستاسونه درے وخته مخکښ دَ مونځ دَ صبانه اوکوم وخت چه کیږدئ تاسو جامے ستاسو د غرمے په وخت کښ او روستو دَ مونځ دَ ماسخوتن نه دا درے وختونه دَ پردے ستاسو دی نیشته په تاسو باندے اونه په دوی باندے ګناه سیوا دَ دے (وختونونه) ډیر تلونکی راتلونکی دی په تاسو باندے بعضے ستاسو په بعضو باندے دغسے بیانوی اللّٰه تعالیٰ تاسوته حکمونه او اللّٰه تعالیٰ پوهه دے حکمتونو والا دے (٥٨)

مکه، خیبر، بحرین جزیرة العرب، یمن، هجر، برمن اطراف دَ شام اوعمان، حبش، ځوك فتح کړے شول اوچا باندے جزیه مقرر کړے شوه۔ په زمانه دَخلیفه اول ابوبکرصدیق﵁ کښ دَ جزیرة العرب نه مرتدین ختم کړے شول اوبصره، دمشق، حوران اوبلاد مصراوبعضِ علاقه دَ فارس فتح کړے شوه۔ په زمانه دَ خلیفه ثانی عمربن خطاب﵁ کښ شام مصر، اکثر بلاد فارس اوروم فتح کړے شول اودَکسریٰ اوقیصرخزانے په مسلمانانوکښ تقسیم کړے شوے۔ په زمانه دَ خلیفه ثالث عثمان بن عفان﵁ کښ مغرب دَ بحرمحیط پورے اوپه مشرق کښ عراق خراسان اهوازکابل وغیره ته خلافت اسلامیه را او رسیدلواودَ هغوی نه روستوهم دَ دنیا عام اطرافو سندهـ اوهند باندے هم دَ مسلمانانوقوت غالب شو۔

فائده: اللّٰه تعالیٰ خپله وعده پوره کړیده لیکن هرکله چه مسلمانانوتمسك په کتاب اللّٰه اوسنت رسول اللّٰه باندے پریخودلواوشرکیاتواو مشابهت دَکفارو ته ئے دین اوئیل اودَ شرعی قانون په بدل ئے نورقوانین غوره کړل نومعامله برعکس شوه یعنی کفارپه هر ملك کښ په مسلمانانوباندے مسلّط شول اوذلیل اومغلوب شول۔ (اللهم وفقنا لما تحب وترضیٰ وانصرنا علی اعداء نا واعِنّا علیهم وامکرلنا علیهم ولاتسلّطهم علینا (امین)۔

[٥٦] په دے ایت کښ دَ بقا دَ خلافت دَپاره درے اوامرذکر دی اقامة الصلوة ایتاء زکوٰة او اطاعت رسول دَ ژوند په ټولو لمحاتوکښ اوخصوصاً په طریقه دَ مونځ او دَ زکوٰة دَ هغه طاعت واجب دے۔

[٥٧] په دے ایت کښ تخویف دے مخالفینودَ مؤمنانوته اوتسلی ده رسول او ایمان والوته چه کافران ستاسونه خلافت نشی اخستلے ځکه چه اللّٰه تعالیٰ سره دوی مقابله نشی کولے۔

[٥٨] هرکله چه مقصد دَ خلافت امن دے سرهٔ دَ حرج لر کولو دَمؤمنانونه او بنیاد دَ امن عفّت او محبت دے نواوس درے قوانین دَ دے دپاره ذکرکوی ۔ په دے ایت کښ اول قانون دَ هغے نه ذکر کوی ۔ په دے کښ استیذان دَ اولاد او دَ خادمانو ذکر کوی او مخکښ په (٢٧) کښ ئے استیذان دَ اغیارو ذکرکړے

وَاِذَا بَلَغَ الْاَطْفَالُ مِنْكُمُ الْحُلُمَ فَلْيَسْتَاْذِنُوْا كَمَا اسْتَاْذَنَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ اٰيٰتِهٖ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿٥٩﴾ وَالْقَوَاعِدُ مِنَ النِّسَآءِ الّٰتِيْ لَا يَرْجُوْنَ نِكَاحًا فَلَيْسَ عَلَيْهِنَّ جُنَاحٌ اَنْ يَّضَعْنَ ثِيَابَهُنَّ غَيْرَ مُتَبَرِّجٰتٍۭ بِزِيْنَةٍ ؕ وَاَنْ يَّسْتَعْفِفْنَ خَيْرٌ لَّهُنَّ ؕ وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿٦٠﴾ لَيْسَ عَلَى الْاَعْمٰى حَرَجٌ وَّلَا عَلَى الْاَعْرَجِ حَرَجٌ وَّلَا عَلَى الْمَرِيْضِ حَرَجٌ وَّلَا عَلٰٓى اَنْفُسِكُمْ

او کله چه اورسی واړه بچی ستاسونه بلوغ ته پس اجازت دے غواړی هر وخت لکه چه اجازت غوښتلو هغه کسانو چه ستاسونه مخکښ (بالغان شوی دی) دغسے بیانوی الله تعالیٰ تاسوته احکام خپل او الله تعالیٰ پوهه دے حکمتونو والا دے (٥٩) او بوډئ ګانے دَ زنانونه هغه چه امید نه لری دَ نکاح کولو نو نیشته په دوی باندے ګناه چه کیږدی پرونی خپل نه به وی بشکاره کژونکی خپل ډول لره او ځان بچ ساتل ډیر غوره دی دوی لره او الله تعالیٰ اوریدونکے دے پوهه دے (٦٠) نیشته په ړوند باندے ګناه اونه په ګوډ باندے ګناه اونه په ناجوړه باندے ګناه اونه په ځانونو ستاسو باندے

ووٗ مطلب ئے دا دے چه درے وختونه داسے دی چه انسان دَ عام عادت په وجه په دغه او قاتو کښ بے پردے اوبے پرواهئے سره ناست وی دَ صبا دَ مانځه نه مخکښ ، دَ غرمے په وخت، او دَ ماسخوتن دَ مانځه نه روستونو په دے او قاتو کښ دِ غلامان خادمان اونابالغ اولاد (چه مراهق وی په عوراتو باندے پوهیږی) دَ دا خلیدلو دَپاره اجازت غواړی، اوبغیر دَ دے او قاتونه دَ اجازت اخستل فرض شی نو حرج به راشی او الله تعالیٰ په دین کښ حرج نه غواړی ، ابوداؤد دَ ابن عباس﷜ نه روایت راوړے دے چه په دے ایت باندے اکثر خلق عمل نه کوی (اومنسوخ نه دے) اوځه خو خپلے وینځے ته هم دا امر کوؤم (ابن کثیر) ﴿ثَلٰثُ مَرّٰتٍ﴾ مراد دَ دے نه درے وختونه دی په شپه او ورځ کښ ﴿وَحِيْنَ تَضَعُوْنَ ثِيَابَكُمْ﴾ مراد دَدے نه ټولے جامے دی لکه بعض خلق دَ آرام کولو په وخت کښ ټولے جامے اوباسی یامراد دَ دے نه زیاتی جامے دی په داسے طریقه سره اکثر حصه دَ عورت ئے بشکاری پرواه ئے نه کوی په دے وخت (غرمه) کښ اکثر جماع کول نه وی نو علت ئے صرف وضع الثیاب ذکر کړیدے اومخکے دَ مونځ دَ فجر اوروستو دَ مونځ دَ عشاء نه دواړه وجے شته نو دَ هغے ذکر ته حاجت نیشته ﴿طَوّٰفُوْنَ﴾ داعلت دے دَ تیرشوی حکم دپاره اومراد دَ دے دَ خدمت دَ وجے نه او موراوپلارته دَبچوډ ډیرحاجتونوپه وجے سره تله راتله کیږی نوکه هروخت اجازت طلب کول لازم شی نوډیرحرج به راشی۔

[٥٩] دا دَ مخکښ قانون تتمه ده یعنی چه دغه هلکان (اولاد) بالغان شی نوبیابه هر وخت داسے اذن غواړی کوم چه په (٢٧) کښ تیرشویدی ﴿الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ﴾ نه مراد هغه کسان دی چه دَ دوی نه مخکښ بالغان شویدی اوهغوی ته عام حکم مخکښ (٢٧) کښ تیرشویدے۔ اودَ دواړه ایاتونو په اختتام کښ دَ تاکید دپاره ئے ﴿كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ﴾ ذکرکړے دے، هرکله چه په روستو ایت کښ حواله ورکړے وه په مخکښ حکم باندے نودَ هغے دَ اشارے دَپاره ایاتِه ذکرکړو اومخکښنی ایت کښ ئے مطلق حکم ووٗ نوالآیات ئے ذکرکړے دے۔

[٦٠]دادویم قانون دے دَپاره دَ دفع کولودَ حرج، سرهٗ دَ بیانِ عفت نه ﴿وَالْقَوَاعِدُ﴾ کښ اشاره ده چه

اَنْ تَاْكُلُوْا مِنْۢ بُيُوْتِكُمْ اَوْ بُيُوْتِ اٰبَآىِٕكُمْ اَوْ بُيُوْتِ اُمَّهٰتِكُمْ اَوْ بُيُوْتِ اِخْوَانِكُمْ اَوْ بُيُوْتِ اَخَوٰتِكُمْ اَوْ بُيُوْتِ اَعْمَامِكُمْ اَوْ بُيُوْتِ عَمّٰتِكُمْ اَوْ بُيُوْتِ اَخْوَالِكُمْ اَوْ بُيُوْتِ خٰلٰتِكُمْ اَوْ مَا مَلَكْتُمْ مَّفَاتِحَهٗۤ اَوْ صَدِيْقِكُمْ ؕ لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ اَنْ تَاْكُلُوْا جَمِيْعًا اَوْ اَشْتَاتًا ؕ فَاِذَا دَخَلْتُمْ بُيُوْتًا فَسَلِّمُوْا عَلٰۤى اَنْفُسِكُمْ تَحِيَّةً مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ مُبٰرَكَةً طَيِّبَةً ؕ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ الْاٰيٰتِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿٦١﴾ ع ٨ ١٣

چه خوراك كوئ دَكورونو خپلونه يا دَكورونو دَ پلارانو ستاسونه يا دَ كورونو دَ ميندو ستاسونه يا دَ كورونو دَ رونړو ستاسو نه يا دَكورونو دَ خويندو ستاسونه يا دَكورونودَ ترونو ستاسونه يا دَكورونودَ تروريانو ستاسونه يا دَكورونو دَ ماماګانو ستاسونه يا دَكورونو دَ ماسيګانو ستاسونه يا دَهغه كورونو نه چه مالك ئے تاسو دَچابيا نو (كنجيانو) دَهغے يا دَ دوستانو ستاسونه نيشته تاسو باندے ګناه چه خوراك كوئ په يوځائے يا ځان ځان له پس كله چه داخليږئ كورونو ته نو سلام اوكړئے په اوسيدونكو دَ هغے باندے پيشكشى ده دَ طرف دَ اللّٰه تعالىٰ نه بركتونو والا زړه خوشحاله كؤونكے دغسے وضاحت كوى اللّٰه تعالىٰ تاسوته دَ حكمونو دَ پاره دَ دے چه دَعقل نه كار واخلئے (٦١)

دوى دَعام ضروريانو (چه زنانوسره تعلق لرى) نه عاجزے شوے دى ﴿الّٰتِيْ لَا يَرْجُوْنَ نِكَاحًا﴾ په دے صفت سره اشاره ده چه دوى دَ عمر داسے انتهاء ته رسيدلى دى چه شوق او رغبت خاصه ترينه ختم شوے وى او په داسے حال كښ دَ جانبينو نه دَ بد اخلاقئ پيدا كيدلو هيڅ خطره نيشته ﴿ثِيَابَهُنَّ﴾ مراد دَ دے نه پرونے او برقعه اولوے څادر دے ﴿غَيْرَ مُتَبَرِّجٰتٍۭ بِزِيْنَةٍ﴾ يعنى پرونے نهٔ استعمالول دَ زينت بنكاره كولو دپاره نه كوى يا دا چه پردو خلقوته سينه، غاړه، متے، پنډئ نه بنكاره كوى او دارنګ مخ ته او شونډو اولاسونو خپو ته رنګ نه وركوى ﴿وَاَنْ يَّسْتَعْفِفْنَ﴾ په دے كښ اشاره ده چه احكامو كښ دوه قسمونه دى يو عزيمت چه په هغے باندے عمل كول غوره كارورى او دويم رخصت چه په هغے باندے عمل كول جائز وى۔

[٦١] دا دريم قانون دے دپاره دَ دفع كولودَ حرج، سرهٔ دَ اسبابودَ محبت نه په مابين كښ ۔ مطلب دا چه كله دا انسان دَ معذوره كسانو سره شريك خوراك كولو كښ حرج او ګناه ګنړى هسے نه چه دوى نه زياته اوخورى او دارنګ دَ پلاراومور اوورور وغيره دَكورونونه خوراك كول (په داسے وخت كښ چه مالك دَكورنه وى) حرج او ګناه ګنړى نوپه دے ايت كښ دَ دے حرج نفى كوى ۔ او ترغيب دے چه په دے شركت اوخوراك كولوسره ستاسو په مينځ كښ محبت پيدا كيږى ۔ دارنګ دَ دفع دَ حرج او دَ محبت پيدا كولو دَ پاره په دے ايت كښ په جمع خوراك اوځان ځان له خوراك كولو اجازت وركړے دے او دَ محبت دَ پاره دَ سلام كولوحكم ئے وركړے دے په وخت دَ داخليدلو كښ دغه كورونوته ﴿لَيْسَ عَلَى الْاَعْمٰى حَرَجٌ﴾ اوله معنىٰ داده چه نيشته په تاسوباندے ګناه په خوراك كولوكښ دَ دے معذورينوسره۔ دويمه معنىٰ داده نيشته په دے معذورينو باندے څه ګناه چه تاسو سره شريك خوراك كوى ﴿مِنْۢ بُيُوْتِكُمْ﴾ مراد دَ دے نه هغه كوردے چه دے په هغے كښ اوسى اوخپل خرچ كوى۔ دائے دَ دے وجے نه ذكر كړو چه څرنګ دَ خپل كورنه خوراك كولو كښ حرج نيشته دارنګ دغه نور كورونه هم دَ دے پشان اوګنړئے ۔ يعنى اقرباء او دوستان دے دَ يوبل نه په خوراك كولوسره خفګان نه كوى او ابن كثير وئيلى دى چه په

اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَاِذَا كَانُوْا مَعَهٗ عَلٰٓى اَمْرٍ جَامِعٍ لَّمْ يَذْهَبُوْا حَتّٰى يَسْتَاْذِنُوْهُ ؕ اِنَّ الَّذِيْنَ يَسْتَاْذِنُوْنَكَ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ۚ فَاِذَا اسْتَاْذَنُوْكَ لِبَعْضِ شَاْنِهِمْ فَاْذَنْ لِّمَنْ شِئْتَ مِنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمُ اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٦٢﴾ لَا تَجْعَلُوْا دُعَآءَ الرَّسُوْلِ بَيْنَكُمْ كَدُعَآءِ بَعْضِكُمْ بَعْضًا ؕ قَدْ يَعْلَمُ اللّٰهُ الَّذِيْنَ يَتَسَلَّلُوْنَ مِنْكُمْ

یقیناً مؤمنان هغه کسان دی چه ایمان ئے راوړے دے په اللّٰه تعالیٰ اوپه رسول دَ هغه اوکله چه وی دَ هغه سره په یو کار جمع کؤونکی باندے نو دوی نه ځی دَ هغه نه تردے پورے چه اجازت ترینه اوغواړی یقیناً هغه کسان چه اجازت غواړی ستانه دا هغه خلق دی چه ایمان لری په اللّٰه تعالیٰ اوپه رسول دَ هغه باندے پس هرکله چه اجازت غواړی دوی ستانه دَ بعضے کار د پاره نو اجازت اوکړه هغه چاته چه خوښه شی ستا دَ دوی نه اوبخښنه اوغواړه دوی لره دَ اللّٰه تعالیٰ نه یقیناً اللّٰه تعالیٰ بخښنه کؤونکے رحم کؤونکے دے (٦٢) مه ګرځوئ بلنه دَ رسول په کورئے کښ پشان دَ بلنے دَ بعضے ستاسو بعضو لره یقیناً پیژنی اللّٰه تعالیٰ هغه کسانو لره چه پټ خوئیږی ستاسودَ مجلس نه

بیوتکم کښ کورونه دَځامنوهم داخل دی ځکه چه حدیث کښ ذکردی چه مال دَ اولاد مال دَوالد دے (په وخت دَ ضرورت کښ) اوصدیقکم داسے دوست چه په دے خبره (چه دوست دَ هغه کورنه خوراك اوکړی) خوشحاله کیږی ﴿جَمِيْعًا اَوْ اَشْتَاتًا﴾ دواړه جائزدی لیکن په جمع سره په یولوښی کښ خوراك غوره دے دَ دے وجے نه جمیعاً مخکے ذکرکړیدے ﴿فَسَلِّمُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِكُمْ﴾ نه مراد په کورکښ اوسیدونکی دی اګرچه خپله ښځه اواهل وعیال وی اودے ته ئے ﴿تَحِيَّةً﴾ ځکه اُوئیل چه دا سبب دَ حیات اودعا دَحیات ده مقرر دَ جانب دَ اللّٰه تعالیٰ نه ﴿مُبٰرَكَةً﴾ دَ دے وجے نه ئے اُوئیل چه سبب دَمحبت اودَ دوستانے اودَلرے کولودَبغض اودَحسد دے ﴿طَيِّبَةً﴾ ئے ځکه اُوئیل چه اوریدونکے په دے سره خوشحالیږی۔

[٦٢] تیر ایت سره ربط دا دے چه دَ سلام حکم لکه چه دَمسلمانانوپه کورنئ کښ دے نودارنګ په وخت دَ رخصتئ کښ دَ نبی ﷺ نه هم حکم دَ سلام دے دپاره دَ رخصت اخستلو۔ اودَ کل سورۀ سره مناسبت دا دے چه مخکښ اداب او احکام قرآنیه بیان شول چه هغے ته ایات بینات وئیلے کیدل نوپه اخرکښ شان دَ رسول ذکرکوی چه دَ قرآن پشان دَ نبی ﷺ دَ احکامو احترام اوعمل کول ضروری دی اوپه دے ایاتونوکښ مقابله ده دَ صفات دَمؤمنانواودَ منافقانو۔ امرجامع نه مراد هغه کاردے چه امیرالمؤمنین اصحاب الرائ راجمع کړی دَمشورے دپاره اوبعض اهل علمو داخل کړے دے په دے کښ مونځ دَ جمعے اودَمونځونوجماعت هم۔بلکه کله چه یوکس په سفرباندے اوځی نوهغه له هم پکاردی چه دَخپل امیرنه اجازت اوغواړی ﴿وَاسْتَغْفِرْ لَهُمُ اللّٰهَ﴾ په دے سره دُعاپه وخت دَ رخصت کیدلوثابته شوه لیکن لاس پورته کیدل پکښ ضروری او لازم نه دی۔ اوپه دے کښ اشاره ده چه هرکله امیراستغفاردعا اوغواړی نومعلومه شی چه اذن ئے په خوشحالئ سره کړے دے۔

لِوَاذًا ۚ فَلْيَحْذَرِ الَّذِيْنَ يُخَالِفُوْنَ عَنْ اَمْرِهٖٓ اَنْ تُصِيْبَهُمْ فِتْنَةٌ اَوْ يُصِيْبَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٦٣﴾
اَلَآ اِنَّ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ قَدْ يَعْلَمُ مَآ اَنْتُمْ عَلَيْهِ ۭ وَيَوْمَ يُرْجَعُوْنَ اِلَيْهِ فَيُنَبِّئُهُمْ
بِمَا عَمِلُوْا ۭ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿٦٤﴾ ع ١٥

ځان پټوی پس اودے ویریځی هغه کسان چه خلاف کوی دَ طریقے دَ نبی نه چه اوبه رسیږی دوی ته فتنه یا به اورسیږی دوی ته عذاب درد ناك (٦٣) خبردار یقیناً دَ اللّٰه تعالیٰ دپاره اختیار دے دَ هغه څیزونو چه په اسمانونو کښ دی او زمکه کښ دی یقیناً عالم دے اللّٰه تعالیٰ په هغه حال باندے چه تاسو په هغے باندے ئے او په کومه ورځ چه اوبه ګوځولے شی دوی هغه ته نو خبربه ورکړی دوی ته اللّٰه تعالیٰ په هغه عملونو چه دوی کړیدی او اللّٰه تعالیٰ په هرڅیز باندے عالم دے (٦٤)

[٦٣] دَ دے ایت په اوله جمله کښ ذکردَ عظمت شان دَ نبی ﷺ دے او دویمه جمله کښ ذکر دَحال دَمنافقانو دے اودریمه جمله کښ تخویف دے مخالفت کوؤنکودَ سنت دَ نبی ﷺ ته ﴿لَاتَجْعَلُوْا دُعَآءَ الرَّسُوْلِ﴾ په دے کښ درے توجیهات دی اوله توجیه داده چه دُعَا په معنیٰ دَ اوازکولوده، مطلب دا دے رسول ته په نامه اواز مکوئے لکه چه یوبل ته اوازونه کوئے یعنی یامحمد مهٔ وائے بلکه په وخت دَخطاب کښ یا نبی اللّٰه اویارسول اللّٰه وائے، هم دارنګ ابن کثیراوابن جریردَعبد اللّٰه بن عباس رضی اللّٰه عنهما نه روایت کړے دے۔ دَ دے وجے نه په هیڅ حدیث صحیح کښ نیشته چه یوصحابی نبی ﷺ ته په محمد سره اوازکړے وی بلکه دا آوازمنافقانواویهودیانوبه کوؤ۔ اوکه دَ اللّٰه تعالیٰ یا دَ جبرائیل دَ طرف نه اوازوی په محمد سره نوپه هغے باندے قیاس کول صحیح نه دی هغوی دَ دے ایت مخاطب نه دی۔ دویمه توجیه داده دُعا په معنیٰ مشهورے سره ده مطلب دا دے هرکله چه مخکے ایت کښ پیغمبرته ئے اوفرمائیل چه په وخت دَ اجازت ورکولوکښ دوی دپاره دَ اللّٰه تعالیٰ نه دُعا دَ مغفرت غواړه نواوس ترغیب ورکوی چه دَ نبی ﷺ دُعاکول دَ خپلودعاګانوپشان مهٔ ګڼړے ځکه چه دَ هغه دُعا قبوله ده دریمه توجیه داده چه دُعا په معنیٰ دَحکم سره ده یعنی دَنبی ﷺ حکم کول دَخپلوحکمونوپه شان مه ګڼړئ دَ هغه دَحکم تابعداری کول فرض دی ﴿يَتَسَلَّلُوْنَ مِنْكُمْ﴾ تسلل په معنیٰ دَپټ پټ خوئیدلودے ﴿لِوَاذًا﴾ معنیٰ ځان پناه کول یعنی منافقانو به دَ نبی ﷺ په مجلس کښ ځان دَ بل شاته کړو او بے اجازته به دَ مجلس نه پټ لاړو ۔ او دا صفت هغه چا ته شامل دے چه په حیلودهوکوسره دَ نبی ﷺ دَ سنت او طریقے نه ډډه کوی۔ اومخالفت کوی ﴿يُخَالِفُوْنَ عَنْ اَمْرِهٖ﴾ ابن کثیر وئیلی دی چه اَمرِهٖ، نه مراد منهاج اوسنت اوشریعت دَ نبی ﷺ دے پس ټول اقوال اواعمال به دَ هغه په سنت سره تللے کیدلے شی که دَ هغے سره برابر وی ډیره ښه ده اوکه دَ هغه دَ سنت نه خلاف وی نوهغه مردود دی اودَ دے ایت دَ لاندے داخل دی ﴿فِتْنَةٌ﴾ دَ دے نه مرادکفراونفاق اوبدعت دے یعنی مخالفت دَسنت رفته رفته انسان لره په بدعت اوکفراونفاق کښ اچوی یا مراد دَ دے نه عذابونه دَ دنیا دی لکه قحطونه ګرانی ظالم بادشاهان وغیره دَ سنت دَ مخالفت دَ وجے نه رائی لکه په دے زمانه کښ چه دَ نبی ﷺ سنت طریقے مسلمانانو شاته غورځولی دی او په عقیدو یا عملونویا په حکمونو، قوانینو منلوکښ دَ قرآن او دَ حدیث نه خلاف لارے ئے اختیارکړی دی دَ دے وجے نه هرملك کښ دَ

سُوْرَةُ الْفُرْقَانِ (٢٥) مَكِّيَّةٌ (٣٢) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ٧٧ رُكُوْعَاتُهَا ٦

تَبٰرَكَ الَّذِيْ نَزَّلَ الْفُرْقَانَ عَلٰى عَبْدِهٖ لِيَكُوْنَ لِلْعٰلَمِيْنَ نَذِيْرَاۙ ۝١ الَّذِيْ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ

برکتونو والا دے هغه ذات چه لږ لږ ئے نازل کړے دے فرقان په بنده خپل باندے دپاره دَ دے چه شی مخلوقاتو لره (انس جن) ویره ورکؤونکے (١) هغه ذات چه خاص هغه لره بادشاهی دَ آسمانونو

(بقیه تفسیرِ دَ سورة النور) کافرانو په لاسونوباندے ذلیل کیږی اومختلف عذابونو کښ مبتلا دی اوعذاب الیم دنیوی اواخروی دواړه عذابونوته شامل دے (اللهم لا تجعلنا فتنة للقوم الظالمین ونعوذبك من الاعداء ولاتسلط علینا من لایرحمنا ـ اللهم امین)۔

[٦٤] هرکله چه تیر شوی ایت کښ ذکر دَ عذاب ئے اوکړونو په دے کښ ذکرکوی چه اللّٰه تعالیٰ قادر او پوره اختیار مند دے عذاب ورکولے شی او عالم هم دے په هغه چاباندے چه مستحق دَ عذاب دی اوپه دے ایت کښ اختتام دَسورة دے په مسئله دَ توحید باندے په رد دَ شرك فی التصرف اوشرك فی العلم سره۔ اواثبات دَ قیامت دے په، ﴿یَوْمَ یُرْجَعُوْنَ﴾ سره۔

سورة الفرقان

ربط: دَ دے سورة دَ سورة نورسره دا دے چه په هغه سورة کښ دَ توحید اوشرك فرق ئے په مثالونوسره ذکرکړے دے نوپه دے سورة کښ دَ اهل توحید او اهل شرك فرق په بیان دَ صفاتو دَ فریقینو سره ذکر کوی۔ او دا رنګ په هغه سورة کښ منع اوکړه دَ اعمالو دَ جاهلانونه نو په دے سورة کښ منع کوی دَ هغوی دَ عقیدو باطلؤنه۔ او دارنګ هرکله چه په نور سره فرق راځی نو دَ دے وجے فرقان ئے نور پسے راوړو۔

دعویٰ دَ دے سورة: رد دے په شرك فی البرکات باندے په رد دَ ټولو قسمونو دَ شرك او په عقلی دلیلونو سره او په نقلی دلیلونو سرهٔ دَ تخویفاتودَ منکرینونه اوپه زجرونوسره په انکار دَ مقاصدو څلورو چه توحید اوصدق رسول اوصدق قرآن او اثبات دَ بعث بعد الموت دے او په مقابله دَ صفاتودَ مشرکینو او مؤمنانو سره۔

خلاصه دَ سورة: داسورة تقسیم دے څلورو بابونوته اول باب تر(١٠) پورے دے په دے کښ دعویٰ دَ سورة ده اوپه هغے باندے شپږدلیلونه عقلیه دی۔ بیاشپږ امورئے نفی کړیدی دَمعبودانوباطِلؤنه اودا زجردے مشرکانوته بیا زجردے په انکاردَ قرآن په شپږ وجوهوسره بیا زجردے په انکار دَ رسول په شپږوجوهوسره۔

تفسیر

[١] دا دعویٰ دَ سورة ده په رد دَ شرك فی البرکات سره اوپه دے سورة کښ ئے درے څله ذکرکړے ده اول کرت مراد برکات دنیویه دی، دویم کرت مراد اخرویه دی اودریم کرت مراد برکات روحانیه دی۔ ﴿تَبٰرَكَ﴾ په لفظ دَ برکت کښ معنیٰ دَ دوام وثبات ده اومعنیٰ دَ ډیروالی دَ خیراودَ فائدے ده۔ په اول معنیٰ سره لازمی دے یعنی همیشه (اوپاك ذَفنانه) اللّٰه تعالیٰ دے او دویمه معنیٰ سره متعدی دے یعنی ډیر خیر او

وَالْاَرْضِ وَلَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا وَّلَمْ يَكُنْ لَّهٗ شَرِيْكٌ فِي الْمُلْكِ وَخَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ فَقَدَّرَهٗ تَقْدِيْرًا ۝۲
وَاتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ اٰلِهَةً لَّا يَخْلُقُوْنَ شَيْـًٔا وَّهُمْ يُخْلَقُوْنَ وَلَا يَمْلِكُوْنَ لِاَنْفُسِهِمْ ضَرًّا
وَّلَا نَفْعًا وَّلَا يَمْلِكُوْنَ مَوْتًا وَّلَا حَيٰوةً وَّلَا نُشُوْرًا ۝۳ وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِنْ هٰذَآ اِلَّآ

او دَ زمکے ده اونه ئے دے نیولے ولد (ځوئے) اونیشته دهٔ لره برخے والا په بادشاهئ کښ او پیداکړے دے هر څیز پس اندازه ئے ورکړے ده خاص اندازه (۲) اوجوړکړیدی دوی سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه برکات ورکوونکی الهه چه نه شی پیدا کولے هیڅ څیز او هغوی پیدا کړے شوی دی او اختیار نه لری دپاره دَ ځانونو خپلو دَ هیڅ نقصان اونه دَ فائِدے او اختیار نه لری دَ مرګ اونه دَ ژوند اونه دَ دوباره پورته کولو (۳) او وائی هغه کسان چه کفرئے کړے دے نه دے دا(قرآن) مګر

فائده ورکوؤنکے اللّٰه تعالیٰ دے یعنی خیر او نعمتونه پیدا کوؤنکے او په هغه نعمتونو کښ اثر اوزیادت پیدا کوؤنکے اللّٰه تعالیٰ دے او دا دواړه معنے په اللّٰه تعالیٰ پورے خاص دی نو دَ دے وجے نه لفظ دَ تَبَارَكَ په اللّٰه تعالیٰ پورے خاص دے۔ اوتفسیر قرطبی کښ لیکلی دی چه اللّٰه تعالیٰ ته متبارك او مبارك نشی وئیلے کیدلے (یعنی په زوردَ (ر) سره) ځکه چه اللّٰه تعالیٰ په برکاتو کښ بل چاته محتاج نه دے ﴿الَّذِيْ نَزَّلَ الْفُرْقَانَ﴾ دا اول دلیل عقلی دے، او قرآن نازلیدل دَ ټول عالم دپاره برکت دے اولوئے برکت پکښ دا دے چه دَ حق او باطل فرق او تمیز په دے قرآن سره کیږی ځکه لفظ دَفُرقَان ئے ذکرکړو ﴿لِيَكُوْنَ﴾ په دے کښ ضمیر عَبْد ته یا فُرقَان ته راجع دے او عالمین نه مراد تمام انسانان او پیریان دی او دا دلیل دے چه دا نبی او داکتاب آخری دی دَ دے نه روستو بل نوے نبی یا کتاب نشی راتللے۔

[۲] په دے ایت کښ پنځه دلیلونه دی په ذکردَ صفاتودَ اللّٰه تعالیٰ سره چه درے صفتونه ثبوتی اودوه صفتونه سلبی دی یعنی بادشاهی په ټولوځیزونودَ اللّٰه تعالیٰ ده مخلوق ټول دَ هغهٔ رعیت اومملوك دے نو دوی اختیاردَ برکاتو ورکولونه لری بیا سوال پیداشوکه اُوئیلے شی چه اللّٰه تعالیٰ به اختیاردَبرکاتوورکولو بل چاته سپارلے وی یا به ئے په برکات ورکولوکښ بل چاڅه دَخان سره حصه دارجوړکړے وی نودَ دے جواب ئے اوکړو ﴿وَلَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا وَّلَمْ يَكُنْ لَّهٗ شَرِيْكٌ فِي الْمُلْكِ﴾ دارنګ ئے اُوفرمائیل هرڅه اللّٰه تعالیٰ پیداکړی دی نوتمام خیراونعمتونه دَ اللّٰه تعالیٰ مخلوق دے بیاکه سوال اوکړیشی چه خالق خواللّٰه تعالیٰ دے لیکن کیدے شی چه بل څوك په دے نعمتونواوخیرکښ کمے زیاتے اچوی نوجواب ئے اوکړو ﴿فَقَدَّرَهٗ تَقْدِيْرًا﴾ سره یعنی اللّٰه تعالیٰ دَهرڅیز اندازمقررکړے دے نوهیڅوك په هغے کښ تبدیلی نشی راوستلے نومعلومه شوه چه دَ برکاتو اختیارمند صرف اللّٰه تعالیٰ دے اودا آیت دلیل دے چه تَقدِیردَ هرخیر وشر اللّٰه تعالیٰ کړیدے په تقدیربانډے ایمان راوړل فرض (رکن دَ ایمان) دے۔

[۳] په دے ایت کښ زجردے مشرکانوته په شرك فی البرکات سره ﴿اٰلِهَةً﴾ مراد دَ دے نه هغه معبودان ماسوىٰ اللّٰه دی چه عقیده اولرلے شی چه اختیارمند دَ برکاتودوی دی اوبندګی ورله کیږی۔ اوپه دے کښ شپږ اوصاف دَ هغوی نه ئے نفی کړی اویوصفت ئے ورله ثابت کړے یعنی مخلوق دی۔ یعنی چه خالق نه دی اومالك نه دی نوبرکات به چاته څنګه ورکړیشی ﴿ضَرًّا﴾ هیڅ نقصان مالی اومرض بدنی دَ دفع

اِفْكٌ افْتَرٰىهُ وَاَعَانَهٗ عَلَيْهِ قَوْمٌ اٰخَرُوْنَ ۚ فَقَدْ جَآءُوْ ظُلْمًا وَّ زُوْرًا ۞ ۵ وَ قَالُوْٓا اَسَاطِيْرُ
الْاَوَّلِيْنَ اكْتَتَبَهَا فَهِيَ تُمْلٰى عَلَيْهِ بُكْرَةً وَّ اَصِيْلًا ۞ ۵ قُلْ اَنْزَلَهُ الَّذِيْ يَعْلَمُ السِّرَّ
فِي السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ ط اِنَّهٗ كَانَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ۞ ۶ وَ قَالُوْا مَا لِ هٰذَا الرَّسُوْلِ يَاْكُلُ
الطَّعَامَ وَيَمْشِيْ فِي الْاَسْوَاقِ ط لَوْ لَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِ مَلَكٌ فَيَكُوْنَ مَعَهٗ نَذِيْرًا ۞ ۷ اَوْ يُلْقٰٓى
اِلَيْهِ كَنْزٌ اَوْ تَكُوْنُ لَهٗ جَنَّةٌ يَّاْكُلُ مِنْهَا ط وَقَالَ الظّٰلِمُوْنَ اِنْ تَتَّبِعُوْنَ اِلَّا رَجُلًا مَّسْحُوْرًا ۞ ۸

دروغ دی چه ځان نه ئے جوړ کړی دی (دے نبی) اومدد کړے دے دَ دهٔ سره په دے باندے خلقو نورو نو یقیناً راوړه دوی ظلم او دَ دروغو خبره (٤) او وائی دوی دا دروغ قصے دَ زړو خلقو د ی چه لیکلی دی دے رسول په بل چا باندے بیا دَهغے املاء (بیان کیدے شی) په دهٔ باندے صبائی او بیګائی (٥) ته اُوایه نازل کړے دے دا قرآن هغه ذات چه پوهیږی په هر پټ ځیز په اسمانونو اوپه زمکه کښ یقیناً اللّٰه تعالیٰ دے بخښنه کؤونکے رحم کؤونکے (٦) او دوی وائی څه وجه ده دے رسول لره چه خوری خوراك اوګرځی په بازارونو کښ ولے نه شی نازلیدلے دهٔ ته ملك (فرښته) چه شی دَ دهٔ ملګرتیا کښ ویره ورکؤونکے (٧) یا(ولے) نه راغور ځیدے شی دهٔ ته خزانه اویاولے نیشته دهٔ لره باغ چه خوری دَ هغے نه او وائی ظالمان تابعداری نه کوئے تاسو مګر دَ سړی چه لیونے شویدے په جادو سره (٨)

کولواختیارنه لری ﴿مَوْتًا وَّلَا حَيٰوةً وَّلَا نُشُوْرًا﴾ عام دے موت اوحیاة خپل اوپردی ته۔

[٤] دا زجردے په انکارد قرآن سره په درے طریقوسره افك، افتراء، امداد دَ بل چا، اول دواړوته ئے ظلم اُوئیل اودریم ته ئے زُور اُوئیل دَ وجے دَ دے نه چه قرآن دَ دوی په شرك باندے ردکوی نودوی انکار دَ قرآن نه کوی۔

[٥] په دے کښ هم زجردے په درے طریقوسره ﴿اكْتَتَبَهَا﴾ طلب دَکتابت دَ بل چانه، ځکه چه پخپله کتابت نشی کولے املاء دَ بل طرف نه، ځکه چه دے پخپله خط نشی لوستلے ﴿بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا﴾ شپه او ورځ یا وخت دَصبا اوبیګاه مراد دے۔

[٦] په دے ایت کښ رد دے په دغه شپږطریقوباندے اوذکرد صدق دَ قرآن دے ﴿السِّرَّ﴾ هرکله چه په پټوځیزونوعلم لری نوښکاره باندے خامخا علم لری۔ اوپه السِّرَّ راوړلوکښ اشاره ده چه په قرآن کریم کښ رازونه حکمتونه بے شماره دی نوولے دَ دے نه انکارکوئے ﴿اِنَّهٗ كَانَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا﴾ یعنی که توبه اوکړے نواللّٰه تعالیٰ به درته مغفرت اورحمت اوکړی په دے کښ ترغیب دے منکرینوته دَ توبے اوانابت کولو۔ ابن کثیرد حسن بصری نه نقل کړے دے چه اوګورے کرم اوجود دَ اللّٰه تعالیٰ ته چه دا خلق وژنی دوستان دَ اللّٰه تعالیٰ، او اللّٰه تعالیٰ دوی لره دعوت ورکوی توبے او رحمت ته۔

[٨،٧] په دے کښ زجردے په انکارد رسول سره هرکله چه قرآن دے رسول راوړے دے دَدے وجے دوی دَ هغه دَ رسالت نه انکار شروع کړو۔ اوپه هغه باندے هم شپږاعتراضونه دی په اول ایت کښ درے اوپه دویم کښ هم درے، په اول کښ ذکرد صفاتو دَ بشریت دے اوپه هغوی باندے دَ دوی اعتراض کول اشاره ده چه دَ مشرکانوپه عقیده کښ بزرګان هغوی دی چه خوراك ته ئے حاجت نه وی اودارنګ دنیوی

اُنْظُرْ كَيْفَ ضَرَبُوْا لَكَ الْاَمْثَالَ فَضَلُّوْا فَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ سَبِيْلًا ۝٩ تَبٰرَكَ الَّذِيْٓ اِنْ شَآءَ
جَعَلَ لَكَ خَيْرًا مِّنْ ذٰلِكَ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۙ وَيَجْعَلْ لَّكَ قُصُوْرًا ۝١٠ بَلْ
كَذَّبُوْا بِالسَّاعَةِ ۫ وَاَعْتَدْنَا لِمَنْ كَذَّبَ بِالسَّاعَةِ سَعِيْرًا ۝١١ اِذَا رَاَتْهُمْ مِّنْ مَّكَانٍ
بَعِيْدٍ سَمِعُوْا لَهَا تَغَيُّظًا وَّ زَفِيْرًا ۝١٢ وَاِذَآ اُلْقُوْا مِنْهَا مَكَانًا ضَيِّقًا مُّقَرَّنِيْنَ دَعَوْا
هُنَالِكَ ثُبُوْرًا ۝١٣ لَا تَدْعُوا الْيَوْمَ ثُبُوْرًا وَّاحِدًا وَّادْعُوْا ثُبُوْرًا كَثِيْرًا ۝١٤ قُلْ اَذٰلِكَ خَيْرٌ اَمْ

اوګوره چه څرنګې بيانوی دوی تالره صفتونه (ناکاره) پس ګمراه شول دوی نو طاقت نه لری دَ لارے (۹) برکتونو والا دے هغه ذات که چرے اوغواړی دربه کړی تالره غوره دَ دے نه باغونه چه بهيږی به لاندے دَ هغے نه ولے او دربه کړی تالره بنګلے (۱۰) بلکه دروغژن ګنړی دوی قيامت لره اوتيار کړے دے مونږ هغه چالره چه دروغژن ګنړی قيامت اُور بل کړے شوے (۱۱) کله چه اُوينی اور دوی لره دَلرے څائے نه آوری به دوی هغے لره غږم بيدل دَ غصے دَ وجے اوهنيږدل (۱۲) اوکله چه اوغورځولے شی دوی دَهغے نه په تنګ څائے کښ ترلے شوی غواړی به دغه وخت کښ هلاکت لره (۱۳) (اوبه وئيلے شی) مه غواړئ نن هلاکت يو او اوغواړئ هلاکتونه ډير(۱٤) اُوايه ته ايا دابنه شے دے اوکه

تجارتونه نه کوی اودارنګ نبی ﷺ په بازارونو کښ دَ دعوت دَ توحيد دپاره ګرځيدلواو دا په مشرکانو باندے بوج وژنواعتراض ئے کولو۔اوپه دويم باندے طلب دَصفاتودَ مالدارئے دے ځکه چه دَ جاهلانوپه نيز سبب دَ عظمت مالداری ده ﴿مَسْحُوْرًا﴾ چه سحرپرے کړے شوے وی يا مسحورپه معنیٰ دَ ساحر دے يا معنیٰ هغه څوک چه محتاج وی خوراك سكاك ته۔ يا مسحورپه معنیٰ دَ مجنون دے يعنی چه سحردَ هغه دماغ خراب کړيدی۔ اودا طعن دَ هغوی په داسے بشرباندے چه دَ ټول عالم هو ښياردے او فصيح بليغ دے داعين ظلم دے۔

[۹] په دے کښ تعجيب دے پيغمبرته او زجردے منکرينوته اواشاره ده چه دَ هغوی اعتراضونه کول په پيغمبرباندے سبب دَ داسے ګمراهئی دے چه اميد ترينه دَ هدايت نيشته اوداسے په سورة بنی اسرائيل (٤٨) کښ هم دی۔

[۱۰] دَ دے ايت نه تر(۳٤) پورے دويم باب دے په دے کښ دوباره دعویٰ دَ تبارك ده اومراد ترينه برکات اخرويه دی يعنی دَ جهنم نه بچ کول اودَجنت نعمتونه ورکول اوبيا زجردے دَمنکرينودَ قيامت اوبيا تخويف اوبشارت په شپږ شپږ طريقوسره دے بيا تخويف دے په برائت دَ آلهه دَ مشرکينو۔ اوجواب دَ بعض اعتراضونودے او زجردے اوتخويف تفصيلی، بيا تسلی ده نبی ته اوزجردے په اعتراض سره په قرآن باندے اودَ هغے جواب اوبيا تخويف دے، په دے (۱۰) ايت کښ تسلی ده نبی ته اواشاره ده جواب دَاعتراض دَ(۸) نه۔ ﴿ذٰلِكَ﴾ کښ اشاره ده کنزاوجنت ته چه دوی دَ هغے مطالبه کوله ﴿جَنّٰتٍ﴾ دَ دے نه مراد باغونه اوبنګلے په آخرت کښ مراد دی۔ اوإن په معنیٰ دَ اذا دے ځکه چه دَ نبی دپاره دَ جنت نعمتونه ورکيدل يقينی دی يا مراد دَ دے نه دَ دنيا باغات اوبنګلے دی ليکن نبی ﷺ هغه نه دی خوښ کړی دَ دے وجے نه اللّٰه تعالیٰ نه دی ورکړی۔

[۱۱،۱۲،۱۳،۱٤] په دے ايانونو کښ زجردے په انکارکوونکو دَ قيامت اوتخويف دے په سعير سره

جَنَّةُ الْخُلْدِ الَّتِيْ وُعِدَ الْمُتَّقُوْنَ ؕ كَانَتْ لَهُمْ جَزَآءً وَّمَصِيْرًا ﴿١٥﴾ لَهُمْ فِيْهَا مَا يَشَآءُوْنَ
خٰلِدِيْنَ ؕ كَانَ عَلٰى رَبِّكَ وَعْدًا مَّسْئُوْلًا ﴿١٦﴾ وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ وَمَا يَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ
اللّٰهِ فَيَقُوْلُ ءَاَنْتُمْ اَضْلَلْتُمْ عِبَادِيْ هٰٓؤُلَآءِ اَمْ هُمْ ضَلُّوا السَّبِيْلَ ﴿١٧﴾ قَالُوْا سُبْحٰنَكَ
مَا كَانَ يَنْۢبَغِيْ لَنَآ اَنْ نَّتَّخِذَ مِنْ دُوْنِكَ مِنْ اَوْلِيَآءَ وَلٰكِنْ مَّتَّعْتَهُمْ وَاٰبَآءَهُمْ حَتّٰى

جنت دَ همیش والی هغه چه وعده ئے کړے شویده دَ متقیانو سره وی به دوی لره بدله او دَ ځیدلو ځائے (١٥) دوی لره په هغے کښ هغه نعمتونه دی چه غواړی ئے دوی همیشه ده ستا په رب باندے وعده غوښتلے شوے (١٦) او په کومه ورځ چه جمع به کړو دا مشرکان او هغه څوك چه دوی بندگی کوی دَ هغوی سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه نو وائی به ایا تاسو ګمراه کړی دی دابندګان ځما دغه (چه مشرکان دی) یا دوی پخپله ګمراه شویدی دَ لارے نه (١٧) دوی به اُوائی پاکی ده تالره نه ځائیږی مونږ لره چه اونیسو مونږ سیوا ستا نه مددګاران (معبودان) اولیکن مزے دَ دنیا ورکړی دی تا دوی ته او پلارانو دَ دوی ته تردے پورے

اوشپږ احوال ئے ذکر کړی دی (١) لیدل دَ لرے نه (٢) تغیظ (٣) زفیر (٤) مکان ضیّق (تنګ کور) (٥) ثبور غوښتل (٦) ثبورکثیر۔ دَ دے دویم حال نه معلومه شوه چه جهنم له به اللّٰه تعالیٰ شعور اواحساس ورکړی نولیدل به کوی، غصه اوغړمبار به کوی۔ اودَ ابن کثیرپه روایت کښ راځی داسے تنګ ځائے کښ به واچولے شی لکه چه میخ په یودیوال کښ په زور اوټومبلے شی ﴿ثُبُوْرًا﴾ داسے لفظ دے چه دلالت کوی په هلاکت او خسران اوتباهئ باندے مراد دا دے چه جهنّمیان به مرګ غواړی نو ورته به اُوئیلے شی چه ډیرکرته مرګ به اوغواړئے یعنی اسباب دَ مرګ ډیر راځی لیکن مرګ به در باندے نه راځی۔

[١٥، ١٦] په دے ایاتونو کښ بشارت دے اوذکرَ حال دَ جنت دے په شپږاحوالوسره (١) ﴿جَنَّةُ الْخُلْدِ﴾ چه وعده ئیے کړے شوے وه (٢) جزاء، (٣) مَصِیر(٤) دوی له به هرهغه وی چه دوی ئے غواړی (٥) خلود دَ اهل جنت (٦) ﴿وَعْدًا مَّسْئُوْلًا﴾ دَ دے مطلب دادے چه متقیان دَ دے سوال کوی لکه په سورة العمران (١٩٤) کښ تیرشویدی۔ دویم مراد دا دے چه مسئول په معنیٰ دَ واجب سره دے یعنی اللّٰه تعالیٰ خامخا پوره کوی پشان دَ واجب اګر چه په اللّٰه تعالیٰ باندے څه څیز نشی واجب کیدلے لیکن دیته واجب اوحق تفضلی وائی۔

[١٧] دا تخویف اخروی دے په طریقه دَ برائت دَ الٰهه باطله دَ عابدانونه۔ او ایت کښ ملائك او انبیاء اوصالحین مراد دی چه مشرکانو دَ هغوی عبادتونه کول او برکات ورکوونکی ئے ګنړل دے جاهلانو دَ هغوی بتان جوړ کړی دی او دوی دعوے کوی چه مونږ ته دغه صالحینو دا حکم کړے دے چه مونږله عبادت کوئے مونږ ستاسو ذمه داریونو په دوی باندے دَ الزام دپاره به په ورځ دَ قیامت دَ دغه صالحینو نه تپوس کیدے شی لکه دَ سورة مائده په آخر کښ تپوس کول دَ عیسیٰ علیه السلام نه په دے مقصد ئے ذکرکړی دی ﴿اَضَلَلْتُمْ عِبَادِيْ﴾ مراد دَ دے نه ګمراهئی ته رابلل دی ځکه ګمراه کول دوی نشی کولے۔

نَسُوا الذِّكْرَ ۚ وَكَانُوا قَوْمًا بُوْرًا ﴿١٨﴾ فَقَدْ كَذَّبُوْكُمْ بِمَا تَقُوْلُوْنَ ۙ فَمَا تَسْتَطِيْعُوْنَ
صَرْفًا وَّلَا نَصْرًا ۚ وَمَنْ يَّظْلِمْ مِّنْكُمْ نُذِقْهُ عَذَابًا كَبِيْرًا ﴿١٩﴾ وَمَآ اَرْسَلْنَا قَبْلَكَ مِنَ
الْمُرْسَلِيْنَ اِلَّآ اِنَّهُمْ لَيَاْكُلُوْنَ الطَّعَامَ وَيَمْشُوْنَ فِي الْاَسْوَاقِ ؕ وَجَعَلْنَا بَعْضَكُمْ لِبَعْضٍ
فِتْنَةً ؕ اَتَصْبِرُوْنَ ۚ وَكَانَ رَبُّكَ بَصِيْرًا ﴿٢٠﴾ ع

چه هیر کړو دوی توحید لره او ژو قوم تباه کیدونکی (۱۸) (اوبه وئیلے شی دوی ته) نو دروغژن ئے کړئ تاسو په هغه خبرو چه تاسو وئیلے نو طاقت نه لرئ تاسو دَ اړولو (دَعذاب) اونه دَ مدد حاصلولو اوچاچه ظلم کړے دے ستاسو نه اوبه څکوؤ مونږ هغه ته عذاب لوئیے (۱۹) اونه دی لیږلی مونږ ستانه مخکښ پیغمبران مګر یقیناً هغوی به خوړل خوراکونه او ګرځیدل به په بازارونو کښ او ګرځولی مونږ بعضے ستاسو دَ بعضو دپاره ازمیښت ایا صبر کوئے تاسو اودے ستا رب لیدونکے دَ هر څیز (۲۰)

[۱۸] دا جواب دے په ترڅ سره اودلیل دے چه مونږ ګمراهئ ته دعوت نه دے ورکړے ځکه چه مونږ عقیده دَ توحید لرو ستانه سیوابل څوک واکدارنه اوحقدارد بندګئے نه ګنړو۔اومؤحد بل چاته دعوت دَشرك نه ورکوی ﴿وَلٰكِنْ مَّتَّعْتَهُمْ﴾ دا سبب دَګمراهئ ذکرکوی یعنی سرهٔ دَ شرك کولونه تا(اے اللّٰه تعالیٰ) دَ دوی اودَ دوی دَ مشرانوحاجتونه پوره کول اودَ دنیا فائدے دِ ورکولے نودوی خیال اوکړو چه شرك حق دین دے اوتوحید ئے هیرکړونو دَدے وجے نه تباه شول۔

[۱۹] دا خطاب دے مشرکانوته په ورځ دَ قیامت، مراد دا دے چه تاسو وئیلی وؤچه دے بزرګانومونږته دَ شرك طرف ته دعوت راکړے دَهغے نه خودے بزرګانو انکاراوکړو ﴿صَرْفًا﴾ اړول دَ عذاب دَځانونونه ﴿وَّلَا نَصْرًا﴾ مدد حاصلول دَ خپلو معبودانونه ﴿وَمَنْ يَّظْلِمْ﴾ داپه ورځ دَقیامت کښ دے اویظلم مضارع په معنیٰ دَ ماضی سره ده یا دا قول دَ دنیا سره تعلق لری۔

[۲۰] روستودَ ذکردَ احوالودَ قیامت نه دَ تخویف دپاره بیائے کلام واپس اوګرځوؤاعتراضاتودَ منکرینو اودَ هغوی جوابونوته نودا جواب دَ اووم ایت یعنی خوراك کول اوبازارونوکښ دَ ضرورت دنیوی یا دَ دعوت دینی دپاره ګرځیدل دَ رسالت سره هیڅ منافات نه لری۔ بیا دَ دے اعتراضونو وجه ئے ذکرکړه چه دا دنیا دَ ابتلاګانو ځائے دے انبیاء رالیږل دَ جاهلانو دپاره امتحان دے چه هغوی پرے اعتراضونه کوی اوجاهلان دَ انبیاؤدپاره امتحان دے چه دوی به دَ هغوی په طعنونواو اعتراضونو باندے صبرکوی۔ دارنګ مالدار اوفقیردَ یوبل امتحان دے اوجوړ شخص اومریض دَیوبل امتحان دے ﴿وَكَانَ رَبُّكَ بَصِيْرًا﴾ یعنی اللّٰه تعالیٰ پوهه دے هرچالره دَ هغه مناسب صفت ورکوی نونبوت ئے هم مناسب اشخاصوته ورکړے دے نو ولے په هغوی باندے اعتراضونه کوئے۔

وَقَالَ الَّذِيْنَ لَا يَرْجُوْنَ لِقَآءَنَا لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْنَا الْمَلٰٓئِكَةُ اَوْ نَرٰى رَبَّنَا ؕ لَقَدِ اسْتَكْبَرُوْا فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ وَعَتَوْ عُتُوًّا كَبِيْرًا ﴿۲۱﴾ يَوْمَ يَرَوْنَ الْمَلٰٓئِكَةَ لَا بُشْرٰى يَوْمَئِذٍ لِّلْمُجْرِمِيْنَ وَيَقُوْلُوْنَ حِجْرًا مَّحْجُوْرًا ﴿۲۲﴾ وَقَدِمْنَآ اِلٰى مَا عَمِلُوْا مِنْ عَمَلٍ فَجَعَلْنٰهُ هَبَآءً مَّنْثُوْرًا ﴿۲۳﴾ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ يَوْمَئِذٍ خَيْرٌ مُّسْتَقَرًّا وَّاَحْسَنُ مَقِيْلًا ﴿۲۴﴾ وَيَوْمَ تَشَقَّقُ السَّمَآءُ بِالْغَمَامِ وَنُزِّلَ الْمَلٰٓئِكَةُ تَنْزِيْلًا ﴿۲۵﴾ اَلْمُلْكُ يَوْمَئِذِ نِ الْحَقُّ لِلرَّحْمٰنِ ؕ وَكَانَ

او وائی هغه کسان چه عقیده نه لری دَ ملاقات زمونږ ولے نه نازلیږی په مونږ باندے ملائك اونه وینو مونږ رب زمونږ یقیناً لوئی ورننوتے ده دَ دوی په زړونو کښ او سر کشی کړے ده دوی سرکشی لویه (۲۱) په کومه ورځ چه دوی به اُوینی ملائکو لره نو خوشحالی به نه وی په دغه ورځ مجرمانولره او وائی به دوی پناهی غواړو پناهی کلکه (۲۲)او قصد کړے دے مونږ هغه عمل ته چه دوی کړے وی پس گرځولے دے مونږ هغه دوړه آلوځولے شوے (۲۳) جنت والا به په دغه ورځ غوره وی په ځائے دَ اوسیدلو کښ او ډیر خائسته دی په لحاظ دَ آرام گاه (۲۴) او په کومه ورځ چه پکړے به شی اسمانونه په وریځو سره او راکوزبه کړے شی ملائِك په راکوځولو سره (۲۵) بادشاهی په دغه ورځ حق ده دپاره دَ رحمٰن ذات او ده دا (ورځ)

[۲۱] دا هم زجرِدے منکرینوته دَ هغوی په اقوالو قبیحواومطالباتو نامناسبو باندے او دا تفصیل دَ فتنے دے دَ جانب دَ منکرینو نه په اهل حق باندے او ایت کښ لف نشر مرتب دے یعنی دوی چه وائی په مونږ باندے دے ملائك نازل شی (چه خبر راکړی دَ دے نبی په صدق باندے) دا دَ دوی استکبار دے او دوی چه وائی چه مونږ ولے رب نه وینو چه مونږ ته اُوائی چه دا ځما نبی حق دے دا عتوّ (اولویه سرکشی ده) دارنګ په سورة بنی اسرائیل (۹۲) کښ تیرشوی دی۔

[۲۲] دا جواب دے دَ اول سوال دَ دوی یعنی ملائك به دوی ته نازل شی اواوبه وینی لیکن دوی لره به بشارت نه وی بلکه خبربه ورکوی دَ نا اُمیدئے اوخسران او وائی به چه خوشحالی په تاسوباندے همیشه دپاره حرام (منع) ده۔ اودغه ورځ دَ ځنکدن او ورځ دَ قیامت ده په دے معنیٰ سره وَ يَقُوْلُوْنَ، ضمیر ملائکوته راجع دے او دویمه معنیٰ دا ده چه کافران به ملائکوته وائی چه پناهی راکړئے مونږله دَ عذاب نه پوره پناهی لیکن پناهی به ورته نه ملاویږی۔

[۲۳] دا جواب دَ سوال دے چه دَ دوی خو نیك عملونه هم شته دَ اولیاؤ سره ئے محبت کوؤ دَ هغوی خدمت ئے کوؤ خیراتونه وغیره ئے کول نوپه دوی باندے خوشحالی ولے همیشه دپاره حرام شوه جواب اوشو چه هغه عملونه دَ دوی دَ کفر اودَ شرك دَ وجے نه برباد دی لکه دوړه چه اونوستلے شی۔

[۲۴] دا بشارت دے مؤمنانو لره هغه کسان چه کافرانو به وربانده اعتراضونه اوطعنونه کول یعنی دَ دوی عملونه برباد نه دی ﴿مَقِيْلًا﴾ په اصل کښ دَ غرمے دَ خوب ځائے ته وئیلے کیږی لیکن حدیث کښ راغلی دی چه په جنت کښ خوب نیشته نومراد دَ مقیل نه صرف دَ آرام اودَ خوشحالئ ځائے دے۔

[۲۵] دا هم تخویف اخروی دے په ذکر دَ اوو هیبتونو دَ ورځ دَ قیامت اول چودل دَ اسمانونو په غمام سره یا مراد دَ غمام نه ظلل (سوری) دی دَ نُوردَ اللّٰه تعالیٰ اوداسے سورة بقره (۲۱۰) کښ هم ذکر دی یا

يَوْمًا عَلَى الْكٰفِرِيْنَ عَسِيْرًا ﴿٢٦﴾ وَيَوْمَ يَعَضُّ الظَّالِمُ عَلٰى يَدَيْهِ يَقُوْلُ يٰلَيْتَنِي اتَّخَذْتُ مَعَ الرَّسُوْلِ سَبِيْلًا ﴿٢٧﴾
يٰوَيْلَتٰى لَيْتَنِيْ لَمْ اَتَّخِذْ فُلَانًا خَلِيْلًا ﴿٢٨﴾ لَقَدْ اَضَلَّنِيْ عَنِ الذِّكْرِ بَعْدَ اِذْ جَآءَنِيْ ؕ وَكَانَ الشَّيْطٰنُ لِلْاِنْسَانِ
خَذُوْلًا ﴿٢٩﴾ وَقَالَ الرَّسُوْلُ يٰرَبِّ اِنَّ قَوْمِي اتَّخَذُوْا هٰذَا الْقُرْاٰنَ مَهْجُوْرًا ﴿٣٠﴾ وَكَذٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ

داسے ورځ چه په کافرانو باندے سخته ده (٢٦) او هغه ورځ چه چکونه به لګوی ظالم په دواړو لاسونو باندے او وائی به هائے افسوس چه نیولے وے ما دَ رسول په تابعداریٔ کښ لار (٢٧) هائے تباهی ده افسوس دے چه نه وے نیولے مافلانکی لره دوست (٢٨) یقیناً اړولے دے دهٔ ماله دَ قرآن نه روستو دَ دے نه چه راغے ماته اودے شیطان انسان لره شرمؤونکے (٢٩) او وائی رسول اے ربه زما یقیناً زما قوم ګرځولے دے دا قرآن پریخودلے شوے (٣٠) او دغسے ګرځولے دے مونږ هر یو نبی لره

مراد دَ غمام نه ډیر جماعتونه دَ ملائکو دی پشان دَ غمام به ښکاری ـ دویم راکوځیدل دَ ملائکو دپاره دَ انتظام دَ میدان حشر۔

[٢٦] دریم هیبت دا دے چه بادشاهی اواختیاربه صرف دَ رحمٰن وی نوهیڅوك به سفارش اوهیڅ خبره بغیر دَ اذن دَ رحمان نه نشی کولے ځلورم دا ورځ به په کافرانو ډیره سخته وی لکه سورة مدثر (١٠،٩) کښ به راځی۔

[٢٧] پنځم حال دا دے چه ظالم به خپلولاسونوباندے دَ ډیرے غصے اودَ افسوس دَ وجے نه چکونه لګوی دا عملی ارمان دے دلته مراد دَ ظالم نه هغه دے چه دَ تابعداریٔ دَ رسول نه ئے مخ ګرځولے دے په شرك اوبدعاتواوګناهونو کولوسره ﴿يَقُوْلُ يٰلَيْتَنِيْ﴾ دا شپږم حال دَ هیبت دے چه ظالم به دَ رسول په اتباع پسے قولی ارمان کوی ـ په لاس باندے چك لګول ئے ځکه خاص کړل چه اکثر عملونه ئے په لاس باندے کړی دی دارنګ داعادت دے دَ پښیمانه چه پښیمانتیا ورته فائده نه ورکوی۔

[٢٨] دا اووم هیبت دے چه دَ شیطانانوانسی اوجنی په دوستانه کولواوخبره منلواوتابعدارئے کولوبه افسوسونه او واویلا کوی ﴿فُلَانًا﴾ نه مراد عام شیطانان دی که انسی وی اوکه جنی وی۔ فلان ئے دَ دے وجے نه اُوئیل چه دَ هیبت دَ وجے نوم دَ هغهٔ ترینه هیر شوے دے یا دَ توهین او بے عزتئے دپاره ئے اُوئیل۔

[٢٩] دا ذکردَ سبب دَ ارمانونو دے چه شیطان انسی یا جنی دهٔ لره دَ قرآن کریم دَ اوریدلواودَ هغے دَ تابعدارئے نه په مختلفو وسوسوسره منع کړے وؤ ﴿خَذُوْلًا﴾ هغه دے چه وعدے کوی دَ مدد کولو او په وخت دَ ضرورت کښ غائب شی یا مخالف شی نو په داسے وخت کښ دغه انسان شرمنده شی۔

[٣٠] دا زجردے مخالفینو دَ قرآن ته (چه دَ شیطان په وسوسے سره ئے دَ قرآن نه خلاف کړیدے) په شکایت کولودَ رسول دَ دوی نه اللّٰه تعالیٰ ته په دنیاکښ، اودا شهادت دَ رسول دے په انکاردَ دوی باندے اوبل تفسیر دا دے چه دابه په ورځ دَ قیامت کښ وی۔ اوقَالَ، په معنٰی دَ یقول سره دے ﴿مَهْجُوْرًا﴾ تفسیر ابن کثیرکښ لیکلی دی چه هجران دَ قرآن عام دے دَ قرآن دَ بیان په وخت کښ شورشغب کول، په دے ایمان نه راوړل په دیکښ سوچ اوفکرنه کول، په دے باندے عمل نه کول، دَ دے په بدل کښ نورو علمونواوکتابونوته توجه کول دَ دے نه خلق منع کول دا ټول په هجران دَ قرآن کښ داخل دی۔ هرکله

عَدُوًّا مِّنَ الْمُجْرِمِيْنَ ؕ وَكَفٰى بِرَبِّكَ هَادِيًا وَّنَصِيْرًا ﴿٣١﴾ وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ الْقُرْاٰنُ جُمْلَةً
وَّاحِدَةً ۚ كَذٰلِكَ ۚ لِنُثَبِّتَ بِهٖ فُؤَادَكَ وَرَتَّلْنٰهُ تَرْتِيْلًا ﴿٣٢﴾ وَلَا يَاْتُوْنَكَ بِمَثَلٍ اِلَّا جِئْنٰكَ بِالْحَقِّ وَ
اَحْسَنَ تَفْسِيْرًا ﴿٣٣﴾ اَلَّذِيْنَ يُحْشَرُوْنَ عَلٰى وُجُوْهِهِمْ اِلٰى جَهَنَّمَ ۙ اُولٰٓئِكَ شَرٌّ مَّكَانًا وَّاَضَلُّ سَبِيْلًا ﴿٣٤﴾ وَلَقَدْ
اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ وَجَعَلْنَا مَعَهٗۤ اَخَاهُ هٰرُوْنَ وَزِيْرًا ﴿٣٥﴾ فَقُلْنَا اذْهَبَاۤ اِلَى الْقَوْمِ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا

دُشمن دَ مجرمانو نه او پوره دے رب ستا هدایت کؤونکے او مددګار (۳۱) او وائی هغه کسان چه کفرئے کړے دے ولے نشی نازلیدلے په دهٔ باندے قرآن په یو ځل دغسے (نازل کړیدے مونږ) دپاره دَ دے چه کلك کړو په دے سره زړه ستا او وضاحت کړیدے مونږ دَ دے په پوره وضاحت سره (۳۲) اونه راوړی دوی تاته هیڅ اعتراض مګر راوړو مونږ تاله جواب او خائسته بیان (۳۳) هغه کسان چه جمع به کړیشی دوی په مخونو خپلو باندے جهنم ته دغه کسان ناکاره ځائے والا دی او روکؤونکی دی لار دَ جنت لره (۳٤) او یقیناً ورکړے دے مونږ موسیٰ(علیه السلام) ته کتاب او ګرځولے دے مونږ دَهغه سره رور دَ هغه هارون(علیه السلام) ملګرے (۳۵) اُوئیل مونږ لاړ شئ دواړه هغه قوم ته چه دروغژن ګړیدی

چه دا قسم هجران دَ نبی ﷺ په ژوند کښ قریشواوعربو کړے وؤنوځکه دَ قوم تخصیص ئے اوکړو۔

[۳۱] هرکله چه دَ نبی خفګان ئے دَ قوم نه ذکرکړو اوس په دے ایت کښ هغه له تسلی ورکوی چه داسے خودَ هر نبی سره خلقو دُشمنی کړے ده نو هغوی صبرکړے وؤته هم صبرکوه ځکه چه هدایت دَ اللّٰه تعالیٰ په اختیارکښ دے اودَ دشمانونه بچ کول هم دَ اللّٰه تعالیٰ په اختیارکښ دی او دا مطلب دے په وکفیٰ بربك هادیا ونصیرا، کښ۔

[۳۳،۳۲] دا زجرے منکرینودَ قرآن ته اودَ هغوی دَ اعتراض درے جوابونه ئے ذکرکړی دی۔ اول داچه په لګ لګ نازلیدلوکښ دَ زړه تثبّت ورکول مقصد دے یعنی کله چه به دَ منکرینو دَ طرف نه څهٔ تکلیف نبی ﷺ ته او رسیدلونو اللّٰه تعالیٰ به ایت دَ هغه دَ تسلئ دپاره نازل کړو۔ دویم جواب چه په لګ لګ نازلیدلو کښ ترتیل مقصد دے یعنی الفاظ واضح لوستلے کیږی او معانی هم په وضاحت سره بیان شی۔ دریم جواب دا دے چه هرکله دوی څه اعتراض کوی نو اللّٰه تعالیٰ دَ هغے حق جواب رالیږی او خائسته تفسیر ئے کوی۔

[۳٤] دا تخویف شدید دے منکرینودَ قرآن ته په ذکر دَ درے حالاتو، اول حشر دَدوی په مخونوباندے لکه سورهٔ بنی اسرائیل (۹۷)کښ تیرشویدی، دویم شرمکاناً چه جهنم دے۔ دریم اَضَلُّ سَبِیْلًا دا په دنیاکښ دے، یامراد دا چه دَ لارے نه دَ ګمراهئ او بربادئ علم دوی ته په قیامت کښ به حاصل شی۔

[۳۵] دَ دے ایت نه تر(٦۰) پورے دریم باب دے په دیکښ شپږ دلیلونه نقلیه دی اودا نمونے دَ عذاب دی دپاره دَ تخویف او نمونے دَ برکاتو دی چه هغه هلاکول دَ دشمنانودَ حق دی داهم برکات دی۔ او زجرونه دی شپږ، اوشپږعقلی دلیلونه دی او تسلی اوتشجیع ده نبی ﷺ ته په شپږ ادابو سره۔

[۳٦،۳۵] په دے کښ دلیل نقلی دے دَ موسیٰ اوهارون علیهما السلام نه مقصد دا دے چه دوی له اللّٰه تعالیٰ څلورقسمه برکات ورکړی وؤ (۱)کتاب (۲) وزیر(۳) مکذبینوته په رسالت سره لیږل(٤) او مدد کول دَ دوی په تباه کولو دَ فرعونیانوسره۔

بِاٰيٰتِنَا ؕ فَدَمَّرْنٰهُمْ تَدْمِيْرًا ﴿٣٦﴾ وَقَوْمَ نُوْحٍ لَّمَّا كَذَّبُوا الرُّسُلَ اَغْرَقْنٰهُمْ وَجَعَلْنٰهُمْ لِلنَّاسِ اٰيَةً ؕ وَاَعْتَدْنَا
لِلظّٰلِمِيْنَ عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿٣٧﴾ وَّعَادًا وَّثَمُوْدَا۠ وَاَصْحٰبَ الرَّسِّ وَقُرُوْنًۢا بَيْنَ ذٰلِكَ كَثِيْرًا ﴿٣٨﴾ وَكُلًّا ضَرَبْنَا لَهُ
الْاَمْثَالَ ۫ وَكُلًّا تَبَّرْنَا تَتْبِيْرًا ﴿٣٩﴾ وَلَقَدْ اَتَوْا عَلَى الْقَرْيَةِ الَّتِيْٓ اُمْطِرَتْ مَطَرَ السَّوْءِ ؕ اَفَلَمْ يَكُوْنُوْا يَرَوْنَهَا ۚ بَلْ
كَانُوْا لَا يَرْجُوْنَ نُشُوْرًا ﴿٤٠﴾ وَاِذَا رَاَوْكَ اِنْ يَّتَّخِذُوْنَكَ اِلَّا هُزُوًا ؕ اَهٰذَا الَّذِيْ بَعَثَ اللّٰهُ رَسُوْلًا ﴿٤١﴾ اِنْ كَادَ
لَيُضِلُّنَا عَنْ اٰلِهَتِنَا لَوْلَآ اَنْ صَبَرْنَا عَلَيْهَا ؕ وَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ حِيْنَ يَرَوْنَ الْعَذَابَ مَنْ اَضَلُّ سَبِيْلًا ﴿٤٢﴾

ایا تونه زمونږ پس هلاك کړل مونږ دوی لره په هلاکولو (٣٦) او (هلاك کړه مونږ) قوم دَ نوح(علیه السلام) هر کله چه دوی دروغژن کړل رسولان غرق کړل مونږ دوی او اوګرځول مونږ دوی خلقو لره نخښه او تیار کړیدے مونږ ظالمانو لره عذاب درد ناك (٣٧) او هلاك کړه مونږ عادیان او ثمودیان او کوهی والا او پیړئ په مینځ دَ دے کښ ډیرے (٣٨) او هریو ته بیان کړیدی مونږ وعظونه او هر یو تباه کړل مونږ په تبا هئ سره (٣٩) او یقیناً ځی راځی دوی په هغه کلی باندے چه باران کړے شوے ؤو په هغوی باندے باران ناکاره ایا پس نه ؤو دوی چه لیدلے وے دوی هغے لره بلکه دوی عقیده نه لری دَ دوباره ژوند (٤٠) او کله چه اُوینی دوی تا لره نه نیسی تا لره مګر ټوقے (وائی) ایا دا هغه کس دے چه رالیږلے دے اللّٰه تعالیٰ رسول (٤١) یقیناً نزدے ؤو دے چه اړولے وے مونږ لره دَ معبودانو زمونږ نه که چرے نه وے ټینګ شوے مونږ په هغے باندے او زر دے چه دوی به پوهه شی کله چه دوی اوینی عذاب لره چه کوم یو زیات بے لارے دے (٤٢)

[٣٧] په دے کښ دلیل نقلی دے دَ نوح(علیه السلام) نه یعنی اللّٰه تعالیٰ هغه لره برکات ورکړو چه دَ هغه مخالفین ئے تباه اوغرق کړل اودَ روستو خلقو دپاره ئے عبرت اوګرځو و اوقیامت کښ هم دوی لره تیارعذاب دے داهم برکات دی چه په مخالفت کوؤنکوباندے ناکاره عذاب راځی ﴿لِلنَّاسِ﴾ لفظ الناس دَ دے وجے نه ذکرکړو چه دا قوم دَ ټولوقومونونه مخکے تیرشویدے نودَ روستو ټولوانسانانو دپاره نمونه ده۔

[٣٩،٣٨] په دے کښ درے قومونه مکذبین ئے ذکرکړیدی او دوی ته وعظ اونصیحت بیانول او دَ دوی هلاکت ئے ذکر کړے دے ﴿اَصْحٰبَ الرَّسِّ﴾ کښ اختلاف دے رَس کچه کوهی ته وئیلے کیږی یوقول دا دے چه دا هغه قوم دے چه صاحب یاسین ئے کوهی ته غورځولے وو۔ دویم داچه دا قوم دَ شعیب(علیه السلام) وو چه په کوهی باندے جمع کیدل ۔ دریم قول دادے چه دوی اصحاب الاخدود دی۔ اول قول ډیرمشهور دے۔

[٤٠] په دے کښ دلیل نقلی دے دَ هلاکت دَ قوم لوط(علیه السلام) اوزجردے مشرکین عرب ته چه دوی په وخت دَ سفرکولودَ شام کښ په کنډراتودَ قوم لوط باندے ورتیریدل داسے په سورۃ حجر(٧٩) اوسورۃ صافات:(١٣٨،١٣٧) کښ دی﴿بَلْ كَانُوْا لَا يَرْجُوْنَ نُشُوْرًا﴾ په دے کښ اشاره ده چه دوی عبرت ځکه نه اخلی چه دوی عقیده دَ دوباره ژوند نه لری۔

[٤١] دا زجردے په انکارکولو دَ رسول نه اوپه هغه پورے استهزاء کول۔

[٤٢] دا هم زجردے سرهٔ دَ تخویف نه یعنی دوی نسبت دَګمراهئ رسول(علیه السلام) ته کوؤ اوپه شرك باندے کلك پاتے کیدل ئے دین ګنړلو لیکن په وخت دَ عذاب راتللو کښ ګمراهان معلومیږی۔

اَرَءَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ اِلٰهَهٗ هَوٰىهُ ؕ اَفَاَنْتَ تَكُوْنُ عَلَيْهِ وَكِيْلًا ﴿٤٣﴾ اَمْ تَحْسَبُ اَنَّ اَكْثَرَهُمْ يَسْمَعُوْنَ اَوْ يَعْقِلُوْنَ ؕ
اِنْ هُمْ اِلَّا كَالْاَنْعَامِ بَلْ هُمْ اَضَلُّ سَبِيْلًا ﴿٤٤﴾ اَلَمْ تَرَ اِلٰى رَبِّكَ كَيْفَ مَدَّ الظِّلَّ ۚ وَلَوْ شَآءَ لَجَعَلَهٗ سَاكِنًا ۚ
ثُمَّ جَعَلْنَا الشَّمْسَ عَلَيْهِ دَلِيْلًا ﴿٤٥﴾ ثُمَّ قَبَضْنٰهُ اِلَيْنَا قَبْضًا يَّسِيْرًا ﴿٤٦﴾ وَهُوَ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ الَّيْلَ لِبَاسًا

ایا خبرئے دَ هغه چا په حال باندے چه نیولے دے معبود خپل خواهش خپل لره ایا پس ئے ته په هغه باندے ذمه وار (٤٣) ایا ګمان کوے ته چه یقیناً ډیر دَدوی نه اوری یا پوهیږی نه دی دوی مګر پشان دَ څاړوو بلکه دوی ډیر بے لارے دی (٤٤) ایا نه ګورے رب خپل ته چه څرنګه غورولے دے سورے او که چرے او غواړی اللّٰه تعالیٰ خامخا اوبه ګرځوی هغے لره په ځائے اولاړ بیا ګرځولے دے مونږ نمر په هغے باندے دلیل (٤٥) بیا رانغاړو مونږهغه ځان خپل ته (په حکم سره) په دمه رانغښتلو (٤٦) او خاص اللّٰه تعالیٰ هغه ذات دے چه ګرځولے ده ستاسو دپاره شپه جامه

[٤٣] دا زجردے په اتباع دَ هوا سره اوتسلی ده نبی ﷺ ته ﴿اِلٰهَهٗ هَوٰىهُ﴾ یعنی معبودان جوړوی دَخپل خواهش موافق یعنی دَچا دَ زړه اونفس تعلق چه دَ یو قبروالاسره پیداشی نودَ هغه عبادت شروع کړی دَ چا دَ نفس تعلق چه دَ یو ژوندی پیر فقیر سره پیداشی دَ چا دَ ونے او دَ بت وغیره سره نو دَ هغے نه معبود جوړ کړی او دلیل شرعی دَ هیڅ چاپه معبودیت باندے سیوئ دَ اللّٰه تعالیٰ نه نیشته په دے معنیٰ سره الٰهه مفعول اول او هواه مفعول دویم دے۔ دویمه معنیٰ دا ده چه دَ خپل خواهش طاعت داسے کوی چه طاعت دَ اللّٰه تعالیٰ او دَ رسول پرے پریګدی یعنی شرك فی الطاعت کوی لکه دهریان، بدعتیان ، فاسق، فاجر هریو (په تفاوت سره) دَ خواهشاتوطاعت کوی۔ نو دوی دَ هوانه الٰه جوړ کړے دے په دے معنیٰ سره مفعول دویم مخکښ دے په اول باندے اودارنګ په سورة جاثیه (٧٣) کښ دی ﴿اَفَاَنْتَ تَكُوْنُ عَلَيْهِ وَكِيْلًا﴾ یعنی تا باندے دَ دوی دَ هدایت ذمه داری نیشته او نه ته دَ دوی ذمه وارئے۔

[٤٤] داهم زجردے منکرینوته اوتسلی ده پیغمبرته یعنی دامنکرین حق خبره نه قبلوی اونه په هغے کښ سوچ کوی نودَ دوی حال پشان دَځاروؤ دے چه غوګونه اوزړونه ئے شته لیکن په هغے سره اوریدل اوقبلول اوتمیز دَحق باطل نشی کولے اودارنګ خوراك سکاك کوی لیکن دَآخرت هیڅ فکرورسره نیشته دے ﴿اَضَلُّ سَبِيْلًا﴾یعنی دوی زیات ناپوهه دی ځکه چه ځاروی اګرچه توحید اورسالت نه پیژنی لیکن هغے ته باطل هم نه وائی اودارنګ ځاروی خپل مالك پیژنی اودَهغهٔ تابعداری کوی اودا مشرکان دَخپل مالك نه هم زیات ناخبره اوباغیان دی اواکثرهم ئے ځکه اوفرمائیل چه بعضے ایمان راوړی۔

[٤٦،٤٥] دَ دے نه عقلی دلیلونه په دعویٰ دَتبارك باندے ذکرکوی په هریودلیل کښ دوه دوه څیزونه (یعنی تصرفات دَ اللّٰه تعالیٰ) ئے ذکرکړی دی اوپه هر دلیل کښ دَ اشیاؤ منافع او فائدے (برکات) ئے ذکرکړی دی۔ په دے آیت کښ سورے او نمرئے ذکرکړے دے اوپه دواړو کښ تصرف الٰهی ئے ذکرکړے۔ ﴿مَدَّ الظِّلَّ﴾ دَ دے نه مراد دَ صبا دَ راختلونه دَ نمرختلوپورے وخت دے ظِل سورے دَ ماسپښین نه وړاندے۔ اوفئ سورے دَ ماسپښین نه روستوته وئیلے کیږی ﴿لَجَعَلَهٗ سَاكِنًا﴾ یعنی نمربه ئے نه راخیژولے نوسورے به همیشه وے لیکن نمرراخیژول دلیل دے په پیژندلودَسوری باندے یعنی که نمرنه وے نوهیڅوا به سورے نه

وَّالنَّوْمَ سُبَاتًا وَّجَعَلَ النَّهَارَ نُشُوْرًا ﴿٤٧﴾ وَهُوَ الَّذِيْٓ اَرْسَلَ الرِّيٰحَ بُشْرًۢا بَيْنَ يَدَيْ رَحْمَتِهٖ ۚ وَاَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَآءِ مَآءً طَهُوْرًا ﴿٤٨﴾ لِّنُحْيِيَ بِهٖ بَلْدَةً مَّيْتًا وَّنُسْقِيَهٗ مِمَّا خَلَقْنَآ اَنْعَامًا وَّاَنَاسِيَّ كَثِيْرًا ﴿٤٩﴾ وَلَقَدْ صَرَّفْنٰهُ بَيْنَهُمْ لِيَذَّكَّرُوْا ۖ فَاَبٰٓى اَكْثَرُ النَّاسِ اِلَّا كُفُوْرًا ﴿٥٠﴾ وَلَوْ شِئْنَا لَبَعَثْنَا فِيْ كُلِّ قَرْيَةٍ نَّذِيْرًا ﴿٥١﴾ فَلَا تُطِعِ الْكٰفِرِيْنَ

او خوب ارام او ګرځولے ده ورځ دپاره دَ خوریدلو (٤٧) او خاص اللّٰه تعالیٰ هغه ذات دے چه رالیږی هوا ګانے زیږے مخکښ دَ رحمت دَ هغه نه او راوړلے دی مونږ دَ اسمان نه اوبه پاکوونکی (٤٨) دَ دے دپاره چه تازه کړو په هغے سره زمکه اوچه او اوخښکوؤ دا اوبه دَ هغه چانه چه مونږ پیدا کړیدی څاروی او انسانان ډیر (٤٩) او یقیناً ګرځولی دی مونږ دا اوبه په مینځ دَ دوی کښ دے دپاره چه نصیحت واخلی پس نه کوی ډیر خلق مګر نا شکری (٥٠) اوکه چرے غوختلے مونږ خامخا لیږلے به وے مونږ په هر کلی کښ ویره ورکوؤنکی (٥١) پس خبره مه منه دَ کافرانو

پیژندلو اودَدے نه مشهورمثل ثابتیږی چه خیزپه ضد سره معلومیږی بیاچه نمرځومره را اوچتیږی نوسورے په دمه دمه کمیږی دیته قبض یسیروائی ﴿دَلِيْلًا﴾ مذکر ئے ځکه راوړو چه دَ شمس نه مراد طلوع دَ هغه ده۔

[٤٧] دا بل دلیل عقلی دے په دے کښ شپه اوپه هغے کښ خوب او ورځ ئے ذکرکړے ده اودَ هغے فائدے ئے ذکرکړی دی ﴿سُبَاتًا﴾ سبت په اصل کښ پریکولو اوخالی کولوته وئیلے شی نو خوب هم په هغه وخت نعمت دے چه په مشاغلو باندے سترے شی اوهغه پریګدی او ارام کوی۔

[٤٨] دا هم دلیل عقلی دے اودَ هوا ګانواوباران ذکرئے کړے دے اودَ هغے اثار ئے هم ذکرکړی دی او ﴿طَهُوْرًا﴾ هغه دی چه پاك وی اوبل څیزلره پاکوی اودا دلیل دے چه اصل په اوبودَ باران کښ طهوریت دے نجاست پکښ عارضی راځی۔ اوابن کثیر وئیلی دے چه طهور په معنیٰ دَ الے دَ طهارت سره دے صیغه دَ مبالغے نه ده۔

[٤٩] په دے کښ دَباران دوه فائدے ئے ذکرکړی دی ﴿كَثِيْرًا﴾ سوال دا دے چه انعام اوانسانان ټول اوبو څکلوته محتاج دی نو كَثِيْرًا ئے ولے اوفرمائیل؟ اول جواب دا دے چه اصل عبارت دا دے (كَثِيْرًامِّمَّا خَلَقْنَآ او اَنْعَامًا وَّاَنَاسِيَّ) بدل دے دَکثیرأنه دویم جواب دا دے چه بعضے انسانان دَ سمندراوبه صفا کوی اودَ څکلو دپاره استعمالوی اوهغه لګ خلق دی او ډیرډباران اوبهٔ څکی۔ کثیراً په لفظ کښ مفرد دے اوپه معنیٰ کښ جمع ده ځکه ئے صفت دَ جمع دپاره ذکر کړو۔

[٥٠] دا هم متعلق دے دَتیرشوی ایت سره اوهٔ ضمیر راجع دے مَاءً (اوبو) ته یعنی اوبه دَ باران په قسم قسم طریقے سره ګرځوو په بعضے زمکه باران اوشی او په بعضے باندے اونشی په بعضے باندے لګ باران اوشی او په بعضے باندے ډیر اوشی یامراد دا دے چه دا اوبه دَ باران په مختلفو ملکونو کښ دَ خورونواوسیندونو او چینو په طریقه سره ګرځوؤ چه خلق ئے وینی اودَ اللّٰه تعالیٰ قدرت اوتوحید پرے یادوی ﴿فَاَبٰٓى اَكْثَرُ النَّاسِ اِلَّا كُفُوْرًا﴾ یعنی دَ باران دَ وریدلونه روستوناشکری کوی څوك وائی دابارات په مونږ باندے فلانی ستوری او وروؤ څوك وائی دا دَ فلانی موسم باران دے اودَ اللّٰه تعالیٰ دَ قدرت تاثیر پکښ نه ګڼری په ایت کښ دویمه توجیه داده چه ضمیردَ صَرَّفْنَاهُ راجع دے قرآن ته اودَسورة بنی اسرائیل دَ (٨٩،٤١) پشان دے۔ او زجردے په انکاردَ قرآن سره۔

وَجَاهِدْهُمْ بِهٖ جِهَادًا كَبِيْرًا ﴿٥٢﴾ وَهُوَ الَّذِيْ مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ هٰذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ وَّهٰذَا مِلْحٌ اُجَاجٌ ۚ وَجَعَلَ بَيْنَهُمَا
بَرْزَخًا وَّحِجْرًا مَّحْجُوْرًا ﴿٥٣﴾ وَهُوَ الَّذِيْ خَلَقَ مِنَ الْمَآءِ بَشَرًا فَجَعَلَهٗ نَسَبًا وَّصِهْرًا ۭ وَكَانَ رَبُّكَ قَدِيْرًا ﴿٥٤﴾ وَ
يَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَنْفَعُهُمْ وَلَا يَضُرُّهُمْ ۭ وَكَانَ الْكَافِرُ عَلٰي رَبِّهٖ ظَهِيْرًا ﴿٥٥﴾ وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا مُبَشِّرًا

او جهاد کوه دَ دوی سره په دے قرآن سره جهاد لوے (٥٢) او خاص اللّٰه تعالیٰ هغه ذات دے چه یوځے روان کړی دی دوه دریابونه دا یو خوږ دے ماتوؤنکے دَ تندے او دا بل مالګین دے مړے کښ انختونکے او پیدا کړے ده په مینځ دَ دے دواړو کښ پرده او مانع (بند) پوخ (٥٣) او خاص اللّٰه تعالیٰ هغه ذات دے چه پیدا کړیدے دَ اوبونه (نطفے) بندهٔ بیا ئے ګرځولے دے نسب والا او سخر ګنئے والا او ستا رب دے قدرت والا (٥٤) او بندګی کوی دوی سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه دَ هغه چا چه نه نفع ورکولے شی دوی ته اونه نقصان ورکولے شی دوی ته او دے کافر خپل رب ته شاګرځوؤنکے (٥٥) اونه ئے لیږلے مونږ ته مګر زیرے ورکؤونکے

[٥١] په مینځ دَ دلیلونو کښ تسلی اوتشجیع ورکوی نبی ﷺ ته حاصل داد ے که اللّٰه تعالیٰ اراده کړے وے نو په هر کلی او ښار کښ به ئے جدا جدا نبی رالیږلے وے لکه چه باران ئے جدا جدا زمکو او کلو کښ تقسیم کړیدے یعنی دَ رسول مثال پشان دَ باران دے لکه چه مخکښ زمانه کښ داسے وؤ چه هر کلی ته جدا جدا نبی رالیږلے وؤ لیکن اللّٰه تعالیٰ تهٔ دَ ټول عالم رسول راولیږلے دا دلیل دے زمونږدَ نبی په ختم نبوت باندے۔

[٥٢] په دے ایت کښ تشجیع ورکوی او طریقه دَ دعوت بنائی نبی ﷺ ته۔ یعنی دا کافران تالره شرک کولوته رابلی یا کتمان دَ حق ته نو دَ دوی خبره اونه منے او جهاد بالقرآن داد ے چه دَ قرآن دَ تبلیغ دپاره ډیر کړاؤ اوکړه او ټول قوتونه دے ته صرف کړه چه سستی پکښ اونشی اودے ته جهاد کبیر وئیلے شی۔

[٥٣] دابل دلیل عقلی دے اوپه دے کښ دوه قسمه اوبه ئے ذکرکړی دی دَخوږ دریاب نه اوبه دَنهرونوخوږونوسیندونو مراد دی۔ چه سمندرته غورځیږی لیکن یوبل سره نه ګډیږی۔ مرج په معنیٰ دَ یوازے والی سره دے لیکن بغیردَ ګډون نه ﴿بَرْزَخًا﴾ پرده ده چه منع کوی دَ غالب کیدلودَ یونه په بل باندے چه دَ خوږنه تریخ جوړشی اودَتریخ نه خوږجوړشی ﴿حِجْرًا مَّحْجُوْرًا﴾ مانع دے دَ اختلاط اودَګډون نه لیکن دا پرده محسوسه نه ده اوداسے په سورۃ رحمان (٢٠) کښ شته۔

[٥٤] دابل دلیل عقلی دے اوپه دے کښ دَ پیدائش نه روستو دوه انعامات ذکر کړیدی په پیدائش سره نسب جوړیږی اوبیا په نکاح کولو سره مصاهرت (سخرګنی) جوړیږی۔ اودا دواړه دَ انسان دَ حفاظت او دَ انسانیت دَ بقاء دپاره اسباب دی۔

[٥٥] په مینځ دَ دلیلونو کښ زورنه ورکوی په شرك فی العبادة باندے ﴿عَلٰي رَبِّهٖ ظَهِيْرًا﴾ معنیٰ دا چه دَ اللّٰه تعالیٰ دَ توحید په مقابله کښ او دَ حزب اللّٰه په مقابله کښ دَ شیطان ملګرتیا کوی دَ شرك دَ غالب کولو او دَ اشاعت کولو کوشش کوی ۔ یا ظهیراً په معنیٰ دَ سپك او ذلیل دے۔

[٥٦] په دے ایت کښ ئے تسلی اوصدق دَ رسول ذکرکړے دے مطلب دا چه دَ شرك فی العبادة دَ مقابلے دَ پاره دا رسول رالیږلے شوے دے۔

وَّنَذِيْرًا ﴿٥٦﴾ قُلْ مَآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ اِلَّا مَنْ شَآءَ اَنْ يَّتَّخِذَ اِلٰى رَبِّهٖ سَبِيْلًا ﴿٥٧﴾ وَتَوَكَّلْ عَلَى الْحَيِّ الَّذِيْ
لَا يَمُوْتُ وَسَبِّحْ بِحَمْدِهٖ ؕ وَكَفٰى بِهٖ بِذُنُوْبِ عِبَادِهٖ خَبِيْرَا ﴿٥٨﴾ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا
فِيْ سِتَّةِ اَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ ۛ الرَّحْمٰنُ فَسْـَٔلْ بِهٖ خَبِيْرًا ﴿٥٩﴾ وَاِذَا قِيْلَ لَهُمُ اسْجُدُوْا لِلرَّحْمٰنِ قَالُوْا وَمَا

او ویره ورکوؤنکے (٥٦) ته اُوایه نه غواړم ستاسونه په دے بیان باندے هیڅ بدله مګر څوك چه غواړی چه اونیسی خپل رب ته لار (٥٧) او ځان اوسپاره په هغه ژوندی ذات باندے چه مرګ پرے نه راځی اوپاکی وایه سره دَ ستا ئینے دَهغه نه اوپوره دے اللّٰه تعالیٰ په ګناهونو دَبندګانو خپلوباندے خبر لرونکے (٥٨) هغه ذات دے چه پیدا کړی دی اسمانونه اوزمکه او هغه چه دَ دے دواړو په مینځ کښ دی په اندازه دَ شپږ ورځو کښ بیا برابر شو دَ عرش د پاسه رحمان ذات دے نو تپوس کوه دَ هغه په باره کښ دَ خبر لرونکی نه (٥٩) او کله چه دوی ته اُوئیلے شی سجده او کړئے رحمان ذات ته دوی وائی اوڅه دے

[٥٧] په دے ایت کښ ادب ذکر کړے دے دَ رسول دپاره یعنی دعوت په اخلاص سره پکار دے۔ اِلَّا استثناء منقطع ده او جزاء دَ مَنْ پته ده فَلْيَتَّبِعْنِيْ پس زما تابعداری دِ اوکړی۔ یا اِلَّا استثناء متصل ده یعنی ځه غواړم اجردَ تابعدار ئے دَ هغه چاچه ځما په دعوت سره ایمان راوړی۔ ځکه چه دعوت کوؤنکی ته اجر ملاویګی په مقدار دَ هغه چا سره چه دَ دهٗ دعوت قبول کړی لیکن اوله توجیه غوره ده په دویمه باندے اشکال دے۔

[٥٨] دا بل ادب دے یعنی په اخلاص پسے توکل ضروری دے ﴿وَسَبِّحْ بِحَمْدِهٖ﴾ سره بل ادب دے۔ توکّل دیته وائی چه په وخت دَ استعمال دَ اسبابوشرعیو کښ عقیده دَ تاثیرکولوپه اللّٰه تعالیٰ باندے لری۔ او وجه ئے دا ده چه اسباب فناکیږی او اللّٰه تعالیٰ باندے فنا نه راځی ﴿بِذُنُوْبِ عِبَادِهٖ﴾ یعنی که مخالفین شرك او کفرکوی اوتا ته کنځل کوی اوپه تا باندے طعنونه وائی نواللّٰه تعالیٰ ترینه خبردے سزا به ورکوی ته ئے پرواه مه کوه۔

[٥٩] دابل دلیل عقلی دے دوه فعلی صفتونه دَ اللّٰه تعالیٰ ئے ذکرکړیدی خَلق او استوٰی اودوه ذاتی صفتونه رحمان اوخبیراً هرکله چه په دے سورة کښ مسئله دَبرکاتوباندے بحث دے اودَهغے سره صفت دَ رحمانیت مناسب دے (یعنی دا ټول انعامات اوبرکات ورکوؤنکے رحمان دے نودَ دے وجے نه لفظ رحمان ئے ذکرکړو۔ اومعنیٰ دَ استوٰی ښکاره ده اوکیفیت ئے مجهول دے هیڅ تاویل اوتمثیل پکښ جائزنه دے دا قول دَ ټولوسلفوصالحینودے ﴿فَاسْئَلْ بِهٖ خَبِيْرًا﴾دَ دے پوتوجیه دا ده سوال کوه په وسیله دَ اسم دَ رحمٰن اوخسران ئیے حال دے ۔دویمه داچه بهٖ کښ با زیاتی ده معنیٰ دا چه سوال کوه دَ اللّٰه تعالیٰ نه چه خبر داردے۔ دریمه توجیه داچه بهٖ په معنیٰ دَعنه دے اوخبیراً نه مراد هغه ځوك دے چه عالم وی په اسماؤ اوصفاتودَ اللّٰه تعالیٰ یعنی دَ اللّٰه تعالیٰ دَ توحید اومعرفت په باره کښ دَ هغه عالم نه تپوس کوه چه په اسماؤ اوصفاتودَ اللّٰه تعالیٰ باندے علم لری اودغه عالم مراد دے په ﴿اِنَّمَا يَخْشَى اللّٰهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمٰٓؤُا﴾ کښ۔

الرَّحْمٰنُ اَنَسْجُدُ لِمَا تَاْمُرُنَا وَزَادَهُمْ نُفُوْرًا ﴿٦٠﴾ تَبٰرَكَ الَّذِيْ جَعَلَ فِي السَّمَآءِ بُرُوْجًا وَّجَعَلَ فِيْهَا سِرٰجًا وَّ
قَمَرًا مُّنِيْرًا ﴿٦١﴾ وَهُوَ الَّذِيْ جَعَلَ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ خِلْفَةً لِّمَنْ اَرَادَ اَنْ يَّذَّكَّرَ اَوْ اَرَادَ شُكُوْرًا ﴿٦٢﴾ وَعِبَادُ الرَّحْمٰنِ
الَّذِيْنَ يَمْشُوْنَ عَلَى الْاَرْضِ هَوْنًا وَّاِذَا خَاطَبَهُمُ الْجٰهِلُوْنَ قَالُوْا سَلٰمًا ﴿٦٣﴾ وَالَّذِيْنَ يَبِيْتُوْنَ لِرَبِّهِمْ

رحمٰن ایا سجده اوکړو هغه چاته چه ته مونږ ته حکم راکوے او زیاتی کوی دوی لره نفرت (٦٠) برکتونو والا دے هغه ذات چه پیدا کړی دی په طرف دَ اسمان کښ منزلونه (دَ غټوستورو) او پیدا کړے دے په هغے کښ نمر بلیدونکے او سپوږمئے رنړا کوؤنکے (٦١) او خاص اللّٰه تعالیٰ هغه ذات دے چه جوړه کړے ده شپه او ورځ دَ یوبل نائب هغه چا لره چه اوغواړی چه نصیحت واخلی او غواړی شکر کول (٦٢) او خاص بندګان دَ رحمان هغه خلق دی چه ګرځی په زمکه باندے په نرمئے او هر کله چه خبرے کوی دَ دوی سره جاهلان نو دوی ورته وائی دَ سلامتیا خبره (٦٣) او داهغه خلق دی چه شپه رونړه وی د پاره دَ رب خپل

[٦٠] دا زجرديے په انکارکولو دَ رحمان او دَ سجدے نه رحمان ته دَ توحید په طریقے سره ـدَ دے نه مراد دانه دے چه دوی دَ اللّٰه تعالیٰ صفت رحمان نه منلو ځکه دَ دوی په اشعارو دَ جاهلیت کښ رحمان په صفت دَ اللّٰه تعالیٰ کښ ذکر دے بلکه مراد دَ دوی دا وؤ چه کوم رحمان ته سجده اوکړو ځکه چه دوی رحمان مسیلمة الکذاب ته هم وئیلو دا انکار عنادی وؤ۔

[٦١] دَ دے ایت نه ترآخرد سورة پورے څلورم باب دے په دے کښ دعویٰ دَ سورة ده په دریم کرت اودوه عقلی دلیلونه دی بیا پنځلس صفات دی دَ صالحینواوهغوی له بشارت دے او اختتام دے په زجر او تخویف دنیوی سره ـ په دے ایت کښ مراد دَبرکاتونه روحانی برکات دی چه هغه صفات چه اللّٰه تعالیٰ ئے صالحینوبندګانوته ورکوی اودا دلیل عقلی دے ﴿بُرُوْجًا﴾ غټ ستوروته وائی یا مراد ترے مورچے دَ څوکیدار ملائکو دی یا منزلونه دَ ښکاره کیدلواوپه دے کښ (چه بروج اوشمس او قمرئے ذکرکړے دی) لطیفه اشاره ده تقسیم ته په صالحینوکښ درے قسموته۔کامل نیکان، درمیانه بندګان، عام مؤمنان اودا ټول دَ زمکے رنړا او زینت دے۔

[٦٢] دا اخری عقلی دلیل دے ﴿خِلْفَةً﴾ نه مراد دا دے چه شپه اوورځ په یو بل پسے زر زر راځی اوبله معنیٰ دا ده چه دَیوبل خلیفه اونائب دی حدیث صحیح کښ راغلی دی چه دَ چانه وِرد (عبادت دَ ورځے پاتے شی نودَ شپے دِ اوکړی اوچانه چه وِرد دَ شپے فوت شی نودَ ورځے دِ اوکړی دَ دے معنیٰ په مناسبت سره ﴿لِمَنْ اَرَادَ اَنْ يَّذَّكَّرَ﴾ ئے ذکرکړے دے يَذَّكَّرَنه مراد هغه څوك دے چه دَشپے اودَ ورځے دَ حالاتونه دلیل اونیسی په توحید دَ اللّٰه تعالیٰ باندے ﴿اَوْ اَرَادَ شُكُوْرًا﴾ دَ دے نه مراد طاعت دَ اللّٰه تعالیٰ دے پس دَ عقیدے دَ توحید نه۔

[٦٣] دَ دے نه پنځلس اوصاف دَ توحید والو ذکرکوی یعنی مؤحدینو باندے لازم دی چه په ځان کښ داسے صفتونه پیدا کړی۔ او هرکله چه تیر شوی ایت کښ ذاکرین اوشاکرین ئے ذکرکړل نو اوس په دے ایاتونوکښ دَ هغه ذکر اوشکر طریقے ذکرکوی اودغه پنځلس صفات دی په دے ایت کښ ئے درے صفات ذکر کړی دی۔(١) ﴿عِبَادُ الرَّحْمٰنِ﴾ یعنی اللّٰه تعالیٰ رحمان (اوبرکت ورکوؤنکے) ګنړی اوهغه

سُجَّدًا وَّقِيَامًا ﴿٦٤﴾ وَالَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا اصْرِفْ عَنَّا عَذَابَ جَهَنَّمَ ۖ إِنَّ عَذَابَهَا كَانَ غَرَامًا ﴿٦٥﴾ إِنَّهَا سَآءَتْ

سجده کڼونکی او او لاړ (٦٤) او دا هغه کسان دی چه وائی اے ربه زمونږ واړوے زمونږ نه عذاب دَ جهنم یقیناً عذاب دَ هغے دے تاوان (٦٥) یقیناً دا ناکاره ځائے

لره بندګی خاص کوی په خلاف دَ هغه کسانو چه دَ سجدے دَ رحمان نه انکار او نفرت کوی په دے کښ اشاره شوه چه ټولوصفتونونه ږومیے توحید دے اوپه لفظ دَعبادالرحمٰن سره اشاره ده چه ټول قسمونه دَعبادت اللّٰه لره خاص کوی که (١) نهاری عبادت دے او که (٢) لیلی(٣)مامورات په ځائے راوړل دی او که (٤) منهیاتونه ځان ساتل دی عبادت دَ (٥)خپودے او که دَ (٦)لاسونودَ (٧) سترګواودَ (٨) غوګونودَ (٩) زړه دے او که دَ (١٠) سر عبادت دے(١١) بدنی دے او که (١٢) مالی دے (١٣) دَ اللّٰه تعالیٰ حق اداکول او که دَ (١٤) مخلوق په دے ټولوصفتونوذکرکړے شوؤ کښ دے اقساموته اشاره ده په فکرکولو سره۔ (٢) ﴿الَّذِيْنَ يَمْشُوْنَ عَلَى الْأَرْضِ هَوْنًا﴾ نرم رفتارنه مراد شرعی طریقے سره ګرځیدل دی نودَ دے معیارسنت دَ نبی ﷺ دے په اعتبار دَ کیفیت دَ رفتاراوپه اعتبارد مقصد دَ رفتاراو کیفیت دَګرځیدلوپه سورة لقمان (١٩) کښ وَاقصِد سره ذکرکړے دے یعنی نه ډیرتیزاونه ډیرپه مزه اودارنګ نه به ډیرټیټ وی اونه به ډیرنیغ وی بلکه لګ به مخے ته کوګ وی لکه سړے چه کندے ته کوځیږی۔ اومقصد دَګرځیدلو سنت طریقه دا ده چه دَ دعوت اوتبلیغ دپاره اواطاعت دپاره ګرځی دَ فساد اوګناه دپاره دے نه ګرځی بیا صرف ګرځیدل مرادنه دی بلکه تمام ژوند دَ سنت موافق تیرول مراد دی۔ اودا کنایه دَعدم تکبرنه ځکه ده چه تکبرمنبع دَګناهونودے (٣)﴿وَإِذَا خَاطَبَهُمُ الْجَاهِلُوْنَ قَالُوْا سَلَامًا﴾ یعنی جاهلان خلق کوشش کوی چه دوی لره دَ صحیح رفتارنه منع کړی۔ که کنځل ورته کوی طعنونه اوبهتانونه وربانده جوړوی نو دوی دَ هغوی نه ځان بچ کوی اوحقه خبره ورته کوی۔ دَ سلام یومعنیٰ تسلماً اوبرائت اواعراض کول لکه سورة قصص (٥٥)کښ دی اوبله معنیٰ صحیح اوحقه ویناکول۔

[٦٤] په دے ایت کښ څلورم صفت ذکرکړے دے مطلب داچه تیرشوی ایت کښ دَ دوی دَ ورځے کار (چه دعوت دپاره ګرځیدل دی) ذکرکړونوپه دے کښ دَ شپے عمل ذکرکړواشاره ده چه دَ تبلیغ اودعوت الی الحق دپاره دَ شپے عبادت اوتهجد کول ضروری دی دَپاره دَ استعانت اواستغفار طلب کولودَ اللّٰه تعالیٰ نه۔ سجده اوقیام ئے خاص ذکرکړل ځکه چه دَ شپے په تهجد کښ دا دواړه اوږده کول پکار دی۔ اودا صفت ئے سورة السجده (١٦)کښ هم ذکرکړے دے۔

[٦٥] په دے ایت کښ پنځم صفت ذکردے مطلب دا چه سرهٗ دَ طاعت اوعبادت کولونه ویره دَ عذاب نه کوئ لکه سورة المؤمنون (٦٠)کښ، اودا مقصد دَ عبادت دے چه دَ عذاب دَ جهنم نه بچ شئ یعنی وائے چه دَ دے عبادت توفیق په داسے طریقه سره راکړے چه دَ عذاب نه دَ بچ کیدلو سبب اوګرځی ﴿غَرَامًا﴾ همیشه لازم اوتاوان اوهلاکت ته وئیلے کیږی۔

مُسْتَقَرًّا وَّمُقَامًا ﴿٦٦﴾ وَالَّذِيْنَ اِذَآ اَنْفَقُوْا لَمْ يُسْرِفُوْا وَلَمْ يَقْتُرُوْا وَكَانَ بَيْنَ ذٰلِكَ قَوَامًا ﴿٦٧﴾ وَالَّذِيْنَ لَا
يَدْعُوْنَ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ وَلَا يَقْتُلُوْنَ النَّفْسَ الَّتِيْ حَرَّمَ اللّٰهُ اِلَّا بِالْحَقِّ وَلَا يَزْنُوْنَ ۚ وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ يَلْقَ
اَثَامًا ﴿٦٨﴾ يُّضٰعَفْ لَهُ الْعَذَابُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَيَخْلُدْ فِيْهٖ مُهَانًا ﴿٦٩﴾ اِلَّا مَنْ تَابَ وَاٰمَنَ وَعَمِلَ عَمَلًا صَالِحًا
فَاُولٰٓئِكَ يُبَدِّلُ اللّٰهُ سَيِّاٰتِهِمْ حَسَنٰتٍ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿٧٠﴾ وَمَنْ تَابَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَاِنَّهٗ يَتُوْبُ

دَ اړام دے او ځائے دَ دیره کیدلودے (٦٦) او دا هغه کسان دی چه کله خرچ کوی نو حدنه تیر یدل نه کوی اونه شومتیا کوی او دی په مینځ دَ دے کښ برابر(میانه حاله) (٦٧) او دا هغه کسان دی چه نه رابلی دَ اللّٰه تعالیٰ سره مددګار (حاجت روا) بل اونه وژنی نفس لره هغه چه حرام کړے دے اللّٰه تعالیٰ وژل دَ هغه بغیر دَ جرم شرعی نه اونه زنا کوی اوکه چا اوکړو دا کارونه مخامخ به شی دَ سزا دَ ګناه سره (٦٨) زیاتی کیدے به شی هغه لره عذاب په ورځ دَ قیامت او همیشه به وی په هغے کښ ذلیل کړے شوے (٦٩) مګر هغه څوك چه توبه ئے اوکړه او ایمان ئے راوړو او عمل ئے اوکړو عمل نیك نو دغه کسان بدل به کړی اللّٰه تعالیٰ بدئے دَ دوی په نیکو سره او دے اللّٰه تعالیٰ بخښنه کؤونکے رحم کؤونکے (٧٠) او چا چه توبه اوکړه او عمل ئے اوکړو نیك عمل نو یقیناً دا کس ورګرځی

[٦٦] په دے کښ عظمت دَ دغه عذاب ذکردے یعنی دا عذاب ډیربد اوناکاره دے دَ دے وجے نه ویره کول ترینه ضروری دی ﴿مُقَامًا﴾ په پیښ دَ میم سره ځائے دَ اقامت او دیره کیدلوته وئیلے کیږی او په زَور دَ میم سره ځائے دَ او دریدلوته وائی۔

[٦٧] په دے کښ درے (شپږم، اووم، اتم) صفتونه ذکرکوی تیرشوی صفتونوکښ طاعت کول په ماموراتوکښ ذکرکړل نوپه دے کښ دَګناهونونه بچ کیدل ذکرکوی دارنګ محکښ عبادت بدنیه ذکر وؤ اوس عبادت مالیه ذکرکوی ﴿لَمْ يُسْرِفُوْا﴾ اسراف خرچ کول دی په غیرَ طاعت دَ اللّٰه تعالیٰ اودَ رسول نه لکه خرچ کول په شرك اوبدعاتواوفسق وفجورکښ ﴿لَمْ يَقْتُرُوْا﴾ اقتار بخل کول دَخرچ کولو نه په طاعت دَاللّٰه اودَ رسول کښ لکه زکوٰة نه ورکول اوپه دعوت اوجهادکښ خرچ نه کول اونورفرض واجب نفقات نه کول ﴿قَوَامًا﴾ په طاعت دَاللّٰه اودَ رسول کښ خرچ کول اودارنګ سورة بنی اسرائیل (٢٩) کښ هم تیرشویدی۔

[٦٨] په دے ایت کښ درے صفات (نهم، لسم، یوؤلسم) ذکرکوی تیرشوی صفات تحلیه وؤ اودا صفات تخلیه دی، یعنی دَمخکښنو صفتونو په سبب دوی دَ مشرکانودَ عملونونه ځان بچ ساتی۔ یودَ هغے نه شرك فی الدعا دے ﴿مَعَ اللّٰهِ﴾ اشاره ده چه مشرك اللّٰه تعالیٰ منی اوکله یااللّٰه مدد هم وائی لیکن کله غیراللّٰه ته رامدد شه وائی په دے عقیدے سره چه دے زمونږحاجت رواواختیارمند دَنفع اوضرراو غیب دان دے اوشرك سبب دَ قتل ظاهری دے اودَ قتل خفی دے(چه هغه زنا دے)۔

[٦٩] داتخویف دلیل دے چه دا تیرشوی کارونه دَ شرك اودَ حالت دَکفردی ځکه چه مضاعفه (زیاتیدل) دَعذاب اوهمیشه والے اواهانت درے واړه خاص دی په کافراومشرك پورے۔

[٧٠] داترغیب دے توبه کولوته دَ تیرشوی ګناهونوذکرکړے شوؤنه ﴿يُبَدِّلُ اللّٰهُ سَيِّاٰتِهِمْ حَسَنٰتٍ﴾ مراد

اِلَى اللّٰهِ مَتَابًا ﴿۷۱﴾ وَالَّذِيْنَ لَا يَشْهَدُوْنَ الزُّوْرَ ۙ وَاِذَا مَرُّوْا بِاللَّغْوِ مَرُّوْا كِرَامًا ﴿۷۲﴾ وَالَّذِيْنَ اِذَا ذُكِّرُوْا بِاٰيٰتِ
رَبِّهِمْ لَمْ يَخِرُّوْا عَلَيْهَا صُمًّا وَّعُمْيَانًا ﴿۷۳﴾ وَالَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا هَبْ لَنَا مِنْ اَزْوَاجِنَا وَذُرِّيّٰتِنَا قُرَّةَ اَعْيُنٍ
وَّاجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِيْنَ اِمَامًا ﴿۷۴﴾ اُولٰٓئِكَ يُجْزَوْنَ الْغُرْفَةَ بِمَا صَبَرُوْا وَيُلَقَّوْنَ فِيْهَا تَحِيَّةً وَّسَلٰمًا ﴿۷۵﴾ خٰلِدِيْنَ

الله تعالیٰ ته په ورګرځیدلو (۷۱) او دا هغه کسان دی چه نه حا ضریږی دروغوته او هرکله چه تیریږی په ناروا کارباندے ورتیریږی ځان بچ ساتونکی (۷۲) او دا هغه کسان دی چه هرکله بیان کړیشی دوی ته ایاتونه دَ رب خپل نه پریوځی په هغے باندے کانړه او ړانده (۷۳) او دا هغه کسان دی چه وائی اے ربه زمونږه را اوبخښے مونږ ته دَ بیبیانو زمونږ نه او اولاد زمونږنه یخوالے دَ سترګو او اوګرځوے مونږ دَ متقیانو دپاره پیشوا (۷٤) دغه صفتونو والا بدله به ورکیدیشی دوی ته بنګلے په وجه دَ صبر کولو دَ دوی (په دغه کارونو باندے) اوپیش کولے به شی دوی ته په هغے کښ مبارکی او سلام (۷۵) همیشه به وی دوی

دا چه دَ دوی ناکاره نومونه اوصفتونه بدل کړی په خائسته نومونو او صفتونو سره اودارنګ ګناهونهورته معاف کړیشی او توفیق دَ نیك اعمالو ورکړے شی اودارنګ دَ دوی دَعمل نامونه بداعمال وران کړے شی اودَ هغے په ځائے دَ اعمال صالحه اجروثواب اولیکلے شی۔

[۷۱] تیرشوی ایت کښ ذکر وه توبه دَ مشرکانودَ دے وجے نه په هغے کښ ئے امن ذکرکړے وؤ اوپه دے ایت کښ توبه ده دَ مؤمنانو ګنهګارانو ﴿فَاِنَّهٗ يَتُوْبُ﴾ داعلت دَ جزاء پتے دے یعنی توبه دَ دهٗ قبوله ده ځکه چه دَ دهٗ توبه په اخلاص سره ده۔

[۷۲] په دے ایت کښ دوه صفتونه ذکرکوی (دولسم، دیارلسم) اودَ دے صفتونومقصدځان بچ کول دی دَاسبابودَ ګناهونونه ﴿لَا يَشْهَدُوْنَ﴾ دَشهود نه مراد دا دے یعنی نه حاضریږی اوتماشے نه کوی یا دَ شهادت نه دے یعنی ګواهی دَ دروغونه کوی ﴿الزُّوْرَ﴾ هرباطل ته وئیلے کیږی چه خائسته کړے شوے وی اوپه دے کښ داخل دی شرك، بدعات، فسق وفجور، اخترونه دَ مشرکانو، عرسونه، میلے په قبرونوباندے، سینماګهر، هغه لوبے چه هغے سره ګناهونه وی، اجتماعات اوجلسے جلوسونه دَشرك اودَ بدعاتو، مجلس دَټینګ ټکور، ګډاء مجلس دَ دروغووئیلو اوغیبت اوبهتان وئیلودا لفظ ټولوته شامل دے ځکه دے کارونوته اودَ دے مجلس ته حاضریدل اوتماشے کول سبب دَ ډیروګناهونودے ﴿بِاللَّغْوِ﴾ سرودونه غزل خوانی، مجالس دَباطل اعمالو اوټول ګناهونه ﴿كِرَامًا﴾ اعراض کوؤنکی ځان ساتونکی یعنی هغوی سره نه کښینی اونه ورته او دریږی اونه پرے خوشحالی کوی بلکه په وخت دَ تیریدلوکښ بل خواته مخ اړوی۔

[۷۳] دا څوارلسم صفت دے اودا صفت سبب دے دَ حاصلولودَ ټولوصفاتوحسنو ځکه چه قرآن اوری په توجه سره اوپه هغے کښ غوراوفکر کوی اوپه هغے باندے عمل کوی نوتیرشوی خائسته صفات په دے سره حاصلیږی ﴿لَمْ يَخِرُّوْا﴾ کنایه ده دَ غفلت نه کولونه خِرُّوْا ئے ځکه اوفرمائیل چه انسان په مجلس دَ قرآن لوستلوکښ غفلت اوکړی نو خوب ورباندے غالب شی نو سرئے مخے طرف ته را او غورځیږی۔

[۷٤] دا پنځلسم صفت دے یعنی تیرشوی صفتونه لکه چه ځان کښ غواړی نودارنګ په خپل اهل وعیال کښ دا صفتونه خوښوی ﴿قُرَّةَ اَعْيُنٍ﴾ دَ سترګویخوالے کنایه ده دَ خوشحالئ نه چه په کتلوسره

فِيْهَا ؕ حَسُنَتْ مُسْتَقَرًّا وَّمُقَامًا ﴿٧٦﴾ قُلْ مَا يَعْبَؤُا بِكُمْ رَبِّيْ لَوْلَا دُعَآؤُكُمْ ۚ فَقَدْ كَذَّبْتُمْ فَسَوْفَ يَكُوْنُ لِزَامًا ﴿٧٧﴾

په هغې کښې خائسته دی دا بنګلے ځائے دَ اوسیدلو او ځائے دَ دیره کیدلو (٧٦) ته اُوایه پروانه کوی ستاسو په عذاب باندے رب زما که چرے نه وے بندګی ستا سو(په تیرشوی عملونو سره) نو یقیناً تکذیب اوکړو تاسو پس زر ده چه شی به عذاب په تاسو باندے لازم (٧٧)

حاصلیږی یعنی مؤمن سړے چه داصفتونه په خپل اهل وعیال کښې وینی نوخوشحالیږی نو معلومه شوه چه څوك دَ اهل وعیال په بداخلاقئ بدکردارئ باندے خفه کیږی نه نودَهغه ایمان کښې نقصان دے ﴿وَاجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِيْنَ اِمَامًا﴾ دا په اصل کښې دُعاده دپاره دَ اهل وعیال په تقویٰ سره اوهر سړے امام دے دَ خپل اهل وعیال دپاره یعنی دوی متقیان اوګرځوے دے دپاره چه څه دَ متقیانو امام اوګرځم، اِمَاماً جمع دَ اَمٌّ ده یا مصدر دے په معنیٰ دَ جمع اومبنی للمفعول دے یا مفرد دے په معنیٰ دَ مقتدا سره۔

[٧٦،٧٥] دا بشارت دے هرکله چه دا تیرشوی صفتونه په صبرسره حاصلیږی دَ دے وجے نه ﴿صَبَرُوْا﴾ ئے ذکرکړواو هرکله دا صفتونه چه اوچت اوعالی صفات دی نوجزاء به ئے هم په جنت کښې اوچتے بنګلے وی۔ فرق په مینځ دَ تحیة او سلام کښې دا دے تحیة دَ اللّٰه تعالیٰ دَطرف نه ده اوسلام دَملائکواودَ ملګروطرف نه یا تحیه پیغام دَ بادشاهئ اودَ همیشوالی دے اودَسلام معنیٰ مشهوره ده۔ یا تحیه سلام دے اوسلام په معنیٰ دَ مبارکئ دے په سلامتیا سره۔

[٧٧] په دے ایت کښې تخویف دنیوی دے هغه چاڼه چه دَ دے مخکښې صفتونونه مخالفت اوتکذیب کوی اودَ دے سورة دَ مقصد نه انکارکوی۔ په دے ایت کښې توجیهات دی ما استفهامیه دے په معنیٰ دَ انکار۔ یا نافیه دے اومقصد دَ دواړویودے ﴿بِكُمْ﴾ په عذاب ستاسویاپه بخنه ستاسو﴿دُعَآءُ كُمْ﴾ اوله معنیٰ عبادتونه ستاسوپه مخکښې بیان کړے شوی صفاتوکښې نودُعاپه معنیٰ دَعبادت سره ده۔ دویم مدد غوختل ستاسودَ اللّٰه تعالیٰ نه په مصیبتونوکښې په دے دواړوتوجیهاتوکښې اضافت دَ دُعا دے فاعل ته۔ دریم دعوت دَ اللّٰه تاسولره توحید ته په دے کښې اضافت دَ دُعا دے مفعول ته۔ څلورم بلنه ستاسوغیراللّٰه لره په شرکی بلنے سره په دے کښې اضافت دَ دُعا دے فاعل ته۔ په اولودرے توجیهاتوسره دَ بِكُمْ معنیٰ بِعَذَابِكُمْ، ده اوپه څلورمه معنیٰ کښې دَ بِكُمْ معنیٰ ده بمغفرتکم سره، تفصیل دَ دے معانودا دے۔ اوله معنیٰ پرواه نه کوی یا څه پراوه به اوکړی اللّٰه تعالیٰ په عذاب ستاسوباندے که نوی عبادت کول ستاسواللّٰه تعالیٰ لره په طریقه دَعباد الرحمان سره (دا خطاب دے مؤمنانوته) ﴿فَقَدْ كَذَّبْتُمْ﴾ پس انکاراوکړوتاسودَ دغه طریقے دَعبادت نه (اے کافرانو)نوزردے چه عذاب به په تاسوپورے اونخلی دویمه معنیٰ پرواه نه کوی یاڅه به اوکړی پرواه اللّٰه تعالیٰ په عذاب ستاسوکه نوے رابلنه ستاسودَاللّٰه تعالیٰ په سختوکښې پس (روستودَ دے نه) تاسوشرك اوکړونوزر دے چه عذاب به تاسوسره اونخلی۔ دریمه معنیٰ، پرواه نه کوی اللّٰه تعالیٰ یاڅه پرواه به اوکړی په عذاب ستاسوکه نوے دعوت دَاللّٰه تعالیٰ تاسولره توحید طرفته پس تاسوتکذیب اوکړودَ دعوت دَ اللّٰه نوذرده چه عذاب به تاسوپورے اونخلی۔ څلورمه معنیٰ څه پرواه کوی یاپرواه نه کوی اللّٰه تعالیٰ ستاسوپه بخنه کولوکه نه وے بلنه ستاسوغیراللّٰه لره په حاجتونواومصیبتونوکښې پس انکاراوکړوتاسوپه شرك ولوسره نوذرده چه عذاب به تاسوپورے اونخلی۔

سُوْرَةُ الشُّعَرَآء (٢٦) مَكِّيَّةٌ (٢٤) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ٢٢٧ رُكُوْعَاتُهَا ١١

طٰسٓمٓ ۝١ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ۝٢ لَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَّفْسَكَ اَلَّا يَكُوْنُوْا مُؤْمِنِيْنَ ۝٣ اِنْ نَّشَاْ نُنَزِّلْ عَلَيْهِمْ
مِّنَ السَّمَآءِ اٰيَةً فَظَلَّتْ اَعْنَاقُهُمْ لَهَا خٰضِعِيْنَ ۝٤ وَمَا يَاْتِيْهِمْ مِّنْ ذِكْرٍ مِّنَ الرَّحْمٰنِ مُحْدَثٍ اِلَّا كَانُوْا عَنْهُ

الجزء التاسع عشر (١٩)

طا سین میم (١) دا ایا تونه دَکتاب بنکاره دی (٢) ایا ته وژنے ځان خپل په دے وجه چه دوی ایمان نه راوړی (٣) که چرے اوغواړو مونږ را اوبه لیږو مونږ په دوی باندے دَ طرف دَ اسمان نه نښه نو شی به ستونه دَ دوی هغے ته عاجزی کوؤنکی (٤) او نه راځی دوی ته څه یاداشت دَ رحمان دَ طرف نه چه نوے دی راتلل دَ هغے مګر دوی دَ هغے نه

سورة الشعراء

ربط: دَ دے سورة دَ محکمیں سورة سره دا دے چه محکمیں دعویٰ دَ تبارك ذکر شوه نو په دے سورة کښ تسلی ورکوی نبی ﷺ لره په نزول دَ عذاب سره په منکرینو باندے او په نجات سره مؤمنانو لره او نقلی دلیلونه ذکر کوی په دغه مسئله باندے۔

دعویٰ دَ دے سورة: تسلی ده رسول الله ﷺ ته په ډیرو طریقو سره اول په هلاکت دَ منکرینو او په نجات دَ مؤمنانو سره ۔ دویم په بیان دَ صدق دَ رسول سره په آخر دَ سورة اوپه دفع دَ اوؤ شبهاتو سره دَ هغهٔ نه۔

خلاصه: دَ دے سورة دا ده چه په دے سورة کښ درے بابونه دی اول باب تر(١٠)پورے دے،په دے کښ ترغیب دے قرآن ته بیا دعویٰ دَ سورة ئے ذکر کړیده، بیا درے زجرونه دی اول په اعراض کولو سره دویم په تکذیب کولو سره دریم انکار دَ دلیل عقلی نه بیا تفصیل دَ دعویٰ دَ سورة دے په دوه اياتونو کښ۔

تفسیر

[١] دا دَ مقطعاتونه دے غوره دا ده چه دَ دے په معنیٰ مونږنه پوهیږواومقصد ئے بیان دَ اعجازدَ قرآن کریم دے په ابتداء دَ سورة کښ۔

[٢] دے ایت کښ ترغیب دے قرآن ته اومضمون دَ دے سورة ته ﴿الْمُبِيْنِ﴾کښ اشاره ده تفصیل دَ واقعاتودَ انبیاء علیهم السلام ته دپاره دَ دلیل نقلی۔

[٤،٣] په دے کښ دعویٰ دَ سورة ده یعنی تسلی ده رسول الله ﷺ ته چه دَ دوی په انکارکولوباندے دَ خفګان دَ وجے ځان مه وژنه دَ دوی ایمان دَ الله تعالیٰ په اختیارکښ دے لیکن الله تعالیٰ په دوی باندے جبرنه کوی ځکه جبری ایمان مقصودنه دے ﴿اَعْنَاقُهُمْ﴾ مشران، ډیرے ډلے، ستونه، درے واړه معانی کیدے شی ﴿اِنْ نَّشَاْ﴾ مفعول دَدے محذوف دے (الایمان بالجبر) ﴿فَظَلَّتْ﴾ ظل دلالت کوی په همیش والی سرهٔ دَ بنکاره والی نه۔

مُعْرِضِيْنَ ۝٥ فَقَدْ كَذَّبُوْا فَسَيَاْتِيْهِمْ اَنْۢبٰٓؤُا مَا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ۝٦ اَوَلَمْ يَرَوْا اِلَى الْاَرْضِ كَمْ اَنْۢبَتْنَا
فِيْهَا مِنْ كُلِّ زَوْجٍ كَرِيْمٍ ۝٧ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً ؕ وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ۝٨ وَاِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيْزُ
الرَّحِيْمُ ۝٩ وَاِذْ نَادٰى رَبُّكَ مُوْسٰٓى اَنِ ائْتِ الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ۝١٠ قَوْمَ فِرْعَوْنَ ؕ اَلَا يَتَّقُوْنَ ۝١١ قَالَ ع ٥

مخ اړوؤنکی دی (٥) پس یقیناً دروغژن کړو دوی حق لره نوزر ده چه رابشی دوی ته عاقبت دَ هغه چه ژو دوی چه هغے پورے ټوقے کولے (٦) ایا دوی نه ګوری زمکے ته چه څومره رازرغون کړیدی مونږ په هغے کښ دَ هر قسم بوټی فائِده مند نه (٧) یقیناً په دے کښ خامخا عبرت دے اونه دی اکثر دَ دوی نه مؤمنان (٨) او یقیناً ستا رب خامخا زور اور دے (په دُشمنانو باندے) خاص رحم کؤنکے دے په دوستانو باندے (٩) او کوم وخت چه اواز اوکړو ستا رب موسیٰ(علیه السلام) ته چه لاړشه قوم ظالمانو ته (١٠) چه قوم دَ فرعون دے ایا دوی ځان دَ کفرنه نه بچ کوی (١١) اُوئیل موسیٰ(علیه السلام)

[٦،٥] په دے کښ زجرډے په درے کارونوسره، اعراض، تکذیب، استهزاء ﴿مُحْدَثٍ﴾ یعنی په نزول کښ نوے دے یا دَ دوی په ګمان کښ نوے دے داسے سورة انبیاء(٢) کښ تیرشویدی اوهرکله چه سورة انبیاء کښ تفصیل دَاحوال دَغافلینو مقصود وؤنوهلته ئے یلعبون ذکرکړے دے اوپه دے سورة کښ دَ معرضینو اومنکرینوذکرمقصود دے دَ دے وجے نه روستوذکردَ تیرشوؤ قومونو دے چه هغوی اعراض اوانکار کړے ووٴ دَ دے وجے دلته مُعرِضُونَ ئے ذکرکړے دے۔ ﴿اَنْبٰٓؤُا﴾ انباء جمع دَنباء ده مراد دَ دے نه خطرناك او عظیم الشان خبر دے چه هغه عذاب دے۔

[٧] په دے کښ زجرډے په اعراض کولو سره دَ دلیل عقلی نه روستودَ ذکر کولو دَ اعراض دَ ذکر (قرآن) نه ۔ اوپه دے دلیل کښ زمکه اوبوټی دَ زمکے قسما قسم سره دَ مختلفو فائدونه مراد دی۔

[٩،٨] دا تفصیل دعوے دَ سورة دے یعنی ایات په قرآن کښ او زمکه اونباتاتوکښ ډیر دی لیکن دوی دَ ضد اوعناد دَ وجے نه انکارکوی اودا سبب دَ عذاب دے او اللّٰه تعالیٰ عَزِیز دے یعنی عذاب ورکوی منکرینوته اور رحِیم دے بچ کوی دَ عذاب نه مؤمنانولره اوداجملے په دے سورة کښ اته کرته ذکرشویدی او اشاره ده چه سبب دَ عذاب تکذیب(عدم ایمان)دے۔

[١٠] دَ دے ایت نه دویم باب دے تر(١٩١) پورے په دے کښ دَ اوؤ انبیاؤ علیهم السلام واقعات ذکر کوی او په هغے کښ ډیرے فائدے دی اول دا نقلی دلیلونه دی په دعویٰ دَ سورة فرقان باندے ۔دویم دا نمونے دَ عذاب دی په منکرینو باندے ۔دریم داتسلی ده پیغمبراومؤمنانو لره په نجات ورکولودَ عذابونودَ دُنیا نه او دَ عذاب دَ اٰخرت نه۔ بیا دَ دے ایت نه تر(٦٨)پورے واقعه دَ موسیٰ(علیه السلام) ده په تفصیل سره اوپه دے کښ ځلور مقامات دی اول مقام تر(١٧)پورے دے په دے مقام کښ رسالت دَ موسیٰ(علیه السلام) ذکر کوی او دوه ویرے دَ هغه نه لرے کول اوپه باره دَ رورکښ دُعا دَ رسالت قبلول اومقصد دَ رسالت ئے ذکرکړے دے۔ او په دے ایت (١٠) کښ نداء دَ رب موسیٰ ته اجمالاً ذکر کړے ده او تفصیل دَ هغے په سورة طٰهٰ کښ تیر شویدے۔

[١١] په دے ایت کښ ئے خلاصه دَ دعوت ذکر کړے ده چه تقویٰ ده او په دے سورة کښ ئے دَ ټولو انبیاؤ په دعوت کښ تقویٰ ذکرکړے ده او دا اتفاقی مسئله ده مراد دَ تقویٰ نه هر قسم شرك اوکفر نه بچ

رَبِّ اِنِّيْٓ اَخَافُ اَنْ يُّكَذِّبُوْنِ ﴿١٢﴾ وَيَضِيْقُ صَدْرِيْ وَلَا يَنْطَلِقُ لِسَانِيْ فَاَرْسِلْ اِلٰى هٰرُوْنَ ﴿١٣﴾ وَلَهُمْ
عَلَيَّ ذَنْۢبٌ فَاَخَافُ اَنْ يَّقْتُلُوْنِ ﴿١٤﴾ قَالَ كَلَّا ۚ فَاذْهَبَا بِاٰيٰتِنَآ اِنَّا مَعَكُمْ مُّسْتَمِعُوْنَ ﴿١٥﴾ فَاْتِيَا فِرْعَوْنَ
فَقُوْلَآ اِنَّا رَسُوْلُ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٦﴾ اَنْ اَرْسِلْ مَعَنَا بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ﴿١٧﴾ قَالَ اَلَمْ نُرَبِّكَ فِيْنَا وَلِيْدًا وَّ

اے ربه زما یقیناً ځه ویریږم چه دوی به ماته دروغژن اُوائی (۱۲) اوتنګه به شی سینه زما اونه به چلیږی ژبه زما نو اولیږه (وحی) هارون(علیه السلام) ته (۱۳) او دَ دوی په ما باندے جرم دے نو ویریږم چه دوی به قتل کړی مالره (۱٤) او فرمائیل اللّٰه تعالیٰ هیڅ چرے نشی کولے پس لاړشئ دواړه په معجزاتو زمونږ سره یقیناً مونږ سره ستا اوریدونکی یو (۱۵) پس لاړشئ دواړه فرعون ته نو اُوائیے چه یقیناً مونږ (هر یو) رالیږلے شوی یو دَ رب العٰلمین نه (۱٦) چه راپریګده زمونږ سره بنی اسرائیلو لره (۱۷) اُوئیل فرعون ایا پالنه نه ده کړے ستا مونږ په کور زمونږ کښ وړوکے وے او

کیدل دی۔

[۱۲] په دے کښ اول خوف ئے دَ هغه ذکر کړے دے او دا خوف دَ موسیٰ دَ فرعونیانودَ تکبر دَ وجے نه دے دَ مخکښ نه دَ موسیٰ(علیه السلام) تجربه وه په دوی باندے۔

[۱۳] په دے کښ دوه حالات ئے ذکر کړی دی په ترتیب سره اوعطف دَ سبب دے په مسبب باندے یعنی تکذیب سبب دَ تنګوالی دَ زړه دے اوتنګوالے دَ زړه سبب دَ ژبے بندیدلو دے ځکه چه بعضے انسان غصه او خفه شی نو خبرے نشی کولے او دا دواړه سبب دے دَ دُعا غوښتلو دپاره دَ ملګرتیا دَ هارون(علیه السلام)۔

[۱٤] په دے کښ ئے دویم خوف ذکر کړے دے۔ ﴿وَلَهُمْ﴾ لفظ دلیل دے چه موسیٰ(علیه السلام) دغه وخت صرف دَ فرعونیا نو مجرم وؤ دَ اللّٰه تعالیٰ مجرم (ګنهګار) نه دے په دغه قتل سره ځکه چه دا قتل ګناه نه وؤ او معلومه شوه چه خوف دَ اسبابو دَلاندے دَ پیغمبرانو دَ شان نه لرے خبره نه ده۔

[۱۵] دا تسلی ده په لرے کولو دَ دویم خوف سره اوتثبت ورکول دے دواړوته۔ خوف دَ موسیٰ(علیه السلام) په اصل کښ خوف دَ دواړو رونړو دے ځکه چه دَ دواړو مقصد یو دے اوذکر دَ ایاتوپه سورة اعراف او طٰهٰ کښ شویدے۔

[۱۷،۱٦] په دے کښ دوه مقصدونه دَرسالت ذکر کړے شوی دی اول مقصد رسالت دَ رب العالمین یعنی دعوت ورکول توحید دَ ربوبیت دَ اللّٰه تعالیٰ ته۔ دویم مقصد مظلوم قوم مؤحدین دَ ظالمانونه خلاصول دپاره دَ دے چه هغوی دین توحید قائم کړی۔ اودا دواړه دپاره دَ اعلاء دَکلمة اللّٰه دی اوجهاد دے۔ په سورة طٰهٰ (٤۷) کښ تفصیل دَ رسالت مقصد وو او رسالت دَ دواړو (موسیٰ او هارون علیهما السلام) مستقل وؤ نوځکه ئے تثنیه (رسولا) ذکر کړے وؤاو دلته اختصارمقصد دے نو رسول مفرد په معنیٰ دَ جنس سره ئے ذکر کړو یا په عبارت کښ تقدیر دے یعنی کل واحد منّا رسول۔

لَبِثْتَ فِيْنَا مِنْ عُمُرِكَ سِنِيْنَ ﴿١٨﴾ وَفَعَلْتَ فَعْلَتَكَ الَّتِيْ فَعَلْتَ وَاَنْتَ مِنَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿١٩﴾ قَالَ فَعَلْتُهَآ
اِذًا وَّاَنَا مِنَ الضَّآلِّيْنَ ﴿٢٠﴾ فَفَرَرْتُ مِنْكُمْ لَمَّا خِفْتُكُمْ فَوَهَبَ لِيْ رَبِّيْ حُكْمًا وَّجَعَلَنِيْ مِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿٢١﴾ وَ

اوسیدل کړی دی تا زمونږ سره دَ عمر ستا نه ډیر کلو نه (۱۸) او کړے دے تاکار ستا هغه چه تا کړے وؤ په داسے حال کښ چه ته دَ نا شکرونه وے (۱۹) اُوئیل موسیٰ(علیه السلام) کړیؤو مادغه کار په دغه وخت اوځه ووم دَ نا خبرو نه (۲۰) نو اوتختیدم ستاسو نه هر کله چه اویریدم ستاسو نه نو را اوبخښله ماته رب زما پوهه مضبوطه او جوړئے کړم څه دَ پیغمبرانو نه (۲۱) او

[۱۸] دَ دے ایت نه دویم مقام دے تر(۳۳) پورے په دے کښ جواب دے دَ څلورو شبهاتو دَ فرعون په موسیٰ(علیه السلام) باندے او تفصیل دَ عالمین دے دپاره دَ وضاحت دَ لفظ دَ رب العالمین اوبیا اظهاردَ دوؤ معجزاتو دے۔ په دے ایت (۱۸) کښ اوله شبهه ده یعنی تحقیردَ موسیٰ(علیه السلام) دے په احسان ذکرکولوسره یعنی ورکو پوالی کښ ستاتربیت مونږ کړے وؤ او ترځوانئ پورے عمر دے مونږ سره تیر کړے دے مونږ درله خوراك څکاك وغیره درکړے دے نوځما احسان نه منے؟ او دویمه شبهه چه دلته کښ تا عمر تیروؤ نو دا دعویٰ (دَ رسالت) خوتا نه کوله اوس څنګه دعویٰ کوے؟

[۱۹] دا دریمه شبه ده چه سره زمونږ دَ احساناتونه زمونږ دَ قوم سړے دے قتل کړے دے وانت من الکافرین یعنی ته په دے قتل کولوسره کافرشوے وے۔ یازما ناشکری دے کړے ده یا چه مونږ ته کافروائے نو هغه وخت ته هم زمونږ سره زمونږ په شانتے کافروے ۔ دا پوله معانے مراد کیدلے شی۔

[۲۰] دا جواب دے دَ دریمے شبهے دا جواب ئے دَ دے وجے نه مخکښ راوړو چه دا دینی اعتراض او بدنامی وه نو دَ دے صفائی مخکښ پکارده ﴿مِنَ الضَّآلِّيْنَ﴾ مراد دَ دے نه ګمراهی مقابل دَ هدایت هرګز نه ده ځکه چه انبیاء علیهم السلام دَ ګمراهئ نه معصوم وی ۔ بلکه مراد دَ ضلال نه خطائی ده یعنی څه پوهه نوؤم چه دا قبطی به په موکه باندے مړکیږی یعنی ما اراده دَ قتل نه وه کړے بلکه دَ دهٗ دَ دفع کولو په اراده مے موکه وهلے وه ۔اوقتل خطائی ګناه نه دے ۔ دویم داچه ضلال په معنیٰ دَ ناخبرئ دے لکه وَوَجَدَكَ ضَالًّا فَهَدٰى، الضحیٰ (۷) یعنی ماته دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرفه هیڅ خبر او وحی نه وه راغلے چه قتل کول دَ قبطی چه ظلم هم کوی او په دار حرب کښ وی او کافروی ناجائزدے نومعلومه شوه چه څوك په دے قتل سره موسیٰ(علیه السلام) ته دَ ګناه کبیره نسبت کوی نو دے پخپله په ګناه کبیره کښ اخته شوځکه چه قتل کول دَ کافر چه ظلم هم کوی او دار حرب کښ وی او دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه په دے باره کښ دَ مخکښ نه حکم هم نوی راغلے او قصد دَ قتل ئے هم نوی شوے دا دَ نبوت سره هیڅ منافات نه لری (دارنګ تفسیر قرطبی کښ ذکرکړی دی) صرف دومره خبره کیدے شی چه موسیٰ(علیه السلام) نه بے احتیاطی اوشوه نو خلاف اولیٰ کار دے چه دَ مقربینو دَ شان سره مناسب نه وؤ دَ دے وجے نه موسیٰ(علیه السلام) دَ هغے نه استغفار کړے دے (لکه چه په سورة قصص کښ به راشی) او اللّٰه تعالیٰ ورته مغفرت کړے دے۔

[۲۱] یعنی دَ وطن نه هجرت کول زما دَ دنیا پرستئ یا دَسرکشئ دَ وجے نه نه دی بلکه ستاسودَخوف دَظلم دَ وجے نه دی ﴿فَوَهَبَ لِيْ رَبِّيْ حُكْمًا﴾جواب دے دَ دویمے شبهے یعنی دے قول وَلَبِثْتَ فِيْنَا مِنْ عُمُرِكَ

تِلْكَ نِعْمَةٌ تَمُنُّهَا عَلَيَّ اَنْ عَبَّدْتَّ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ﴿٢٢﴾ قَالَ فِرْعَوْنُ وَمَا رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٢٣﴾ قَالَ رَبُّ السَّمٰوٰتِ
وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۭ اِنْ كُنْتُمْ مُّوْقِنِيْنَ ﴿٢٤﴾ قَالَ لِمَنْ حَوْلَهٗٓ اَلَا تَسْتَمِعُوْنَ ﴿٢٥﴾ قَالَ رَبُّكُمْ وَرَبُّ اٰبَاۗىِٕكُمُ
الْاَوَّلِيْنَ ﴿٢٦﴾ قَالَ اِنَّ رَسُوْلَكُمُ الَّذِيْٓ اُرْسِلَ اِلَيْكُمْ لَمَجْنُوْنٌ ﴿٢٧﴾ قَالَ رَبُّ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۭ
اِنْ كُنْتُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿٢٨﴾ قَالَ لَىِٕنِ اتَّخَذْتَ اِلٰهًا غَيْرِيْ لَاَجْعَلَنَّكَ مِنَ الْمَسْجُوْنِيْنَ ﴿٢٩﴾ قَالَ اَوَلَوْ جِئْتُكَ بِشَيْءٍ

(ایا) داځه نعمت دے چه ته ئې زبادنه کوے په ماباندے چه خدمتونه دے اخستی دی دَ بنی اسرائیلونه (۲۲) اُوئیل فرعون اوځوك دے رب العالمین (۲۳) اُوئیل موسیٰ(علیه السلام) اختیار مند دَ اسما نونو او دَ زمکے اودَ مینځ دَ دے دواړو که تاسو یقین کۅونکی ئے (۲٤) اُوئیل فرعون هغه چاته چه ګیر چاپیر ۅو دَ دهٔ ایا تاسو غوږ نه ږدی (۲۵) اُوئیل موسیٰ(علیه السلام) اختیار مند ستاسو دے او اختیار مند ستاسو دَ مشرانو زړو دے (۲٦) اُوئیل فرعون یقیناً رسول ستاسو هغه چه رالیږلے شوے دے تاسوته خامخا لیونے دے (۲۷) اُوئیل موسیٰ(علیه السلام) اختیار مند دَ مشرق او مغرب او دَمینځ دَ دے دواړو دے که چرے تاسو عقل لرئے (۲۸) اُوئیل فرعون که چرے اودے ګنړلو اختیار مند زما نه سیوا خامخا ځه به اوګرځوم تالره دَ جیلیا نونه (۲۹) اُوئیل موسیٰ(علیه السلام) ایا اګر چه راوړم ځه تاته دلیل

سِنِیْنَ،یعنی مادعویٰ دَرسالت دَ ځان نه نشوه کولے لیکن هرکله چه روستودَ هجرت نه اللّٰه تعالیٰ ماته پوهه او رسالت راکړو نوځکه اوس دعویٰ دَرسالت کوؤم۔

[۲۲] دا جواب دَ اولے شبهے دَ فرعون دے اوپه دے کښ څوتوجیهات دی اوله توجیه، دا استفهام تقریری دے یعنی اقرار دے په احسان دَ فرعون باندے چه تا دَ نوروبنی اسرائیلونه خدمتګاران جوړ کړی ووَ اوځه دے دَ دے نه معاف کړے وؤم دا احسان ستا منم۔ دویمه توجیه دا استفهام انکاری دے یعنی ایا داځه احسان دے چه ځما قوم نه دے غلامان جوړ کړی ووَ اوهغوی دے ذلیل کړی وؤاودَ هغوی تذلیل خوځما تذلیل دے ځکه مشهورمتل دے۔ (من اهین قومهٗ ذلّ) دریمه توجیه دا استفهام انکاری دے یعنی داځه احسان دے چه تهٔ ئے په ماباندے زبادوے چه تا ذلیل کړی وؤبنی اسرائیل په دے وجه چه تادَ هغوی ځامن قتل کول نوهغوی دَ ویرے دَ وجے نه مالره دریاب کښ اوغورځواوتاسوځه دَ دریاب نه را اوچت کړم اوستا بی بی ځه دَ ولدپشان اونیولم یعنی زما تربیت ستاسوپه کورکښ ستاسو دَ ظلم نتیجه ده۔ څلورمه توجیه استفهام انکاری دے یعنی داځه احسان دے چه ماباندے زبادوے بلکه تاخدمتونه اخستل دَ بنی اسرائیلونه نوهغوی په زمینداړئے وغیره خدمتونوکښ مال ګټلونوتابه هم خوړله اوځکله اومابه هم دَ هغے مال نه خوړو اوځکلونوحقیقت کښ دَ بنی اسرائیلواحسان دے په تاباندے اوپه ما باندے۔

[۲۳] دا څلورم سوال دے دَ فرعون په طریقه دَ تلبیس سره په قوم باندے یعنی عالمین خو صرف دَ مصر خلق دی او دَ دوی نظام خوځه چلوؤم نو رب العالمین ځه یم بل څوك دے؟

[۲٤نه تر۳۳] پورے په دے ایاتونوکښ بیان دَمضاف الیه دے یعنی العالمین۔ ځکه چه فرعون دهوکه ورکوله خپل قوم ته په معنیٰ دَ العالمین سره نو موسیٰ(علیه السلام) اول علویات سفلیات وسطیات بیان کړل، نوفرعون مخاطبینوته تعجب ورکوؤ دپاره دَ دے چه قول دَ موسیٰ(علیه السلام) په دوی باندے څه اثر اونکړی بیا

مُّبِيْنٍ ﴿٣٠﴾ قَالَ فَأْتِ بِهٖٓ اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿٣١﴾ فَاَلْقٰى عَصَاهُ فَاِذَا هِيَ ثُعْبَانٌ مُّبِيْنٌ ﴿٣٢﴾ وَّنَزَعَ يَدَهٗ
فَاِذَا هِيَ بَيْضَآءُ لِلنّٰظِرِيْنَ ﴿٣٣﴾ قَالَ لِلْمَلَاِ حَوْلَهٗٓ اِنَّ هٰذَا لَسٰحِرٌ عَلِيْمٌ ﴿٣٤﴾ يُّرِيْدُ اَنْ يُّخْرِجَكُمْ مِّنْ اَرْضِكُمْ
بِسِحْرِهٖ ۖ فَمَاذَا تَاْمُرُوْنَ ﴿٣٥﴾ قَالُوْٓا اَرْجِهْ وَاَخَاهُ وَابْعَثْ فِي الْمَدَآئِنِ حٰشِرِيْنَ ﴿٣٦﴾ يَاْتُوْكَ بِكُلِّ سَحَّارٍ عَلِيْمٍ ﴿٣٧﴾
فَجُمِعَ السَّحَرَةُ لِمِيْقَاتِ يَوْمٍ مَّعْلُوْمٍ ﴿٣٨﴾ وَّقِيْلَ لِلنَّاسِ هَلْ اَنْتُمْ مُّجْتَمِعُوْنَ ﴿٣٩﴾ لَعَلَّنَا نَتَّبِعُ السَّحَرَةَ

ع ٣٤

بنکاره (۳۰) اُوئیل فرعون پس راوړه هغه که چرے ته ئے دَ رشتینو نه (۳۱) نو ګذارئے کړله همسا خپله نوناګهانه هغه اژدها وه بنکاره (۳۲) او راویستلو ئے لاس خپل نوناګهه هغه سپین ژو دپاره دَ نظر کوونکو (۳۳) اُوئیل فرعون غټانو ته چه چاپیره ژو دَ هغه نه یقیناً دا جادوګر بنه پوهه دے (۳٤) غواړی چه اوباسی تاسو لره دَ ملك ستاسونه په جادو خپل سره نو څه مشوره کوئے تاسو (۳۵) اُوئیل دوی مهلت ورکړئے دهٔ لره او رور دَ دهٔ لره او اولیږه په ښارونوکښ راجمع کژونکی (۳٦) چه راولی تاته هر غټ جادوګر بنه پوهه (۳۷) پس راجمع کړے شول جادوګر وخت مقرر دَ ورځے معلومے ته (۳۸) او اُوئیلے شو خلقوته ایا تاسو جمع کیدونکے یئ (ضرور جمع شئے) (۳۹) د پاره دَ دے چه تابعداری اوکړو دَ جادوګرو

موسیٰ علیه السلام موجوده انسانان او مشران ذکرکړل داسخت حجت وؤ په فرعون باندے ځکه چه موسیٰ علیه السلام واضحه کړله چه ستاسو دَ اباؤ اجدادو په وخت کښ دا فرعون نه وؤنو دَ هغوی رب څوك وؤ ؟ دَ دے وجے نه فرعون سختی اوکړه او موسیٰ علیه السلام باندے دَ مجنون حکم اوکړو۔ بیا موسیٰ علیه السلام اطراف دَ زمکے ذکرکړل اشاره ئے اوکړله چه دَ مصرنه بهرنوره دنیا هم شته نو دَ هغے رب څوك دے په دے خبره دَ فرعون غصه زیاته شوه نو دباؤئے اوکړو چه ځه به تاجیل ته واچوم ﴿اِلٰهًا غَيْرِيْ﴾ یعنی فرعون قوم ته دَ خپل عبادت کولو امرکړے وؤ او نور آلهه به په امر دَ فرعون جوړیدل ځکه ئے اِلٰهًا غَيْرِيْ، اُوئیل۔ لیکن موسیٰ علیه السلام باندے هیڅ خوف اورعب اثر اونه کړو او دوه معجزات ئے په طلب دَ فرعون سره پیش کړل۔

فائده: هرکله چه په اسمانونو زمکو اومابین کښ فکرکولوسره شك لرے کیږی اویقین پیدا کیږی نو، اِنْ كُنْتُمْ مُّوْقِنِيْنَ، ئے دَ هغے سره ذکرکړواودَ اطرافو دَ مشرق اومغرب اومابین دپاره دَ عقل ضرورت دے اودارنګ فرعون په موسیٰ علیه السلام دَ مجنون (بے عقله) حکم اوکړونوموسیٰ علیه السلام دَ هغه په رد کښ اِنْ كُنْتُمْ تَعْقِلُوْنَ اوئیل۔

[۳٤] دَ دے ایت نه تر(۵۱) پورے دریم مقام دے په دے کښ مقابله دَ ساحرانودَ موسیٰ علیه السلام سره ده اوبیا مغلوبیت دَ هغوی اوایمان راوړل اوثبت په مقابله دَفرعون کښ ذکرکوی۔ په دے ایت(۳٤)کښ قول دَ فرعون خپل اراکینو دَشوریٰ سره ذکرکوی دَ دهٔ دَ قول نه روستوداسے قول اراکینودَ شوری یوبل سره کړے دے لکه چه سورة اعراف(۱۰۹) کښ ذکرشویدی۔

[۳۵] دا بدنامه لګوی په موسیٰ علیه السلام باندے چه دَ هغه دَ دینی مقصد نه په دنیوی مقصد سره تعبیر کوی۔

[۳۷،۳٦] هرکله چه موسیٰ علیه السلام معجزے ته بِشَيْءٍ مُّبِيْنٍ اوئیل نو دوی دَ مقابلے دپاره سَحَّارٍ په مبالغے سره اوئیل۔

[۳۹،۳۸] ﴿يَوْمٍ مَّعْلُوْمٍ﴾ نه مرادیوم الزینة ده چه دَ مقابلے دپاره مقررکړے شوے وه سورة طٰهٰ (۵۹)

اِنْ كَانُوْا هُمُ الْغٰلِبِيْنَ ﴿٤٠﴾ فَلَمَّا جَآءَ السَّحَرَةُ قَالُوْا لِفِرْعَوْنَ اَئِنَّ لَنَا لَاَجْرًا اِنْ كُنَّا نَحْنُ الْغٰلِبِيْنَ ﴿٤١﴾
قَالَ نَعَمْ وَاِنَّكُمْ اِذًا لَّمِنَ الْمُقَرَّبِيْنَ ﴿٤٢﴾ قَالَ لَهُمْ مُّوْسٰٓى اَلْقُوْا مَآ اَنْتُمْ مُّلْقُوْنَ ﴿٤٣﴾ فَاَلْقَوْا حِبَالَهُمْ وَعِصِيَّهُمْ
وَقَالُوْا بِعِزَّةِ فِرْعَوْنَ اِنَّا لَنَحْنُ الْغٰلِبُوْنَ ﴿٤٤﴾ فَاَلْقٰى مُوْسٰى عَصَاهُ فَاِذَا هِيَ تَلْقَفُ مَا يَاْفِكُوْنَ ﴿٤٥﴾ فَاُلْقِيَ
السَّحَرَةُ سٰجِدِيْنَ ﴿٤٦﴾ قَالُوْٓا اٰمَنَّا بِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٤٧﴾ رَبِّ مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ ﴿٤٨﴾ قَالَ اٰمَنْتُمْ لَهٗ قَبْلَ اَنْ
اٰذَنَ لَكُمْ ۚ اِنَّهٗ لَكَبِيْرُكُمُ الَّذِيْ عَلَّمَكُمُ السِّحْرَ ۚ فَلَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ۗ لَاُقَطِّعَنَّ اَيْدِيَكُمْ وَاَرْجُلَكُمْ مِّنْ

که چرے دوی زور اور شی (٤٠) پس هرکله چه راغلل جادوګر دوی اُوئیل فرعون ته ایا وی به زمونږ دپاره بدله که چرے مونږ زور اور شو (٤١) اُوئیل فرعون او او یقیناً تاسوبه دغه وخت خامخا دَ نزدے مرتبے والو نه ئے (٤٢) اُوئیل دوی ته موسیٰ(علیه السلام) اوغورځوئ هغه څه چه تاسو غورځوونکی ئے (٤٣) پس اوغورځولے دوی رسئے خپلے او همساګانے خپلے او اُوئیل دوی قسم دے په عزت دَ فرعون باندے یقیناً مونږ خامخا زوراور یو(٤٤) نو اوغورځوله موسیٰ(علیه السلام) همسا خپله نوناګهه هغے تیر کړل هغه چه دوی دَ ځان نه جوړ کړی ؤو (٤٥) پس اوغورځولے شول جادوګر سجده کؤونکی (٤٦) اُوئیل دوی ایمان راوړے دے مونږ په رب العٰلمین باندے (٤٧) چه رب دَ موسیٰ او هارون دے (٤٨) اُوئیل فرعون ایا ایمان راوړو تاسو په دهٗ باندے مخکښ دَ دے نه چه اجازت کړے وے ماتاسوته یقیناً دے خامخا مشرستاسو دے هغه چه خودلے ئے دے تاسوته جادو پس خامخا زر ده چه پوهه به شئے تاسو خامخا پرے به کړم لاسونه ستاسو او خپے ستاسو

کښ ﴿وَقِيْلَ لِلنَّاسِ هَلْ اَنْتُمْ﴾ دلته استفهام په معنیٰ دَ امرسره دے اوقیل سره ئیے تعبیردَ تعمیم دَ قائلینودَ وجے نه کړیدے یعنی ګیرچاپیره ډیر اعلانونه اوشول۔

[٤٠] دَ دوی یقین دا ووچه ساحران به غالب کیږی ځکه چه دَ تابعداریځ فیصله ئے اوکړه صرف په اعتباردَ ظاهرسره په طریقه دَ شرط سره ئے ذکرکړه۔

[٤٢،٤١] باطل پرست هرکار دَ دُنیا دَ مقصد دپاره کوی دَ دنے وجے نه هغوی دَ اجرت طلب اوکړو په دے سورة کښ په واقعه دَ مقابله کښ تفصیل اوتاکید ډیردے دَ دے وجے نه اَئِن سره همزه دَ استفهام او لفظ دَ اِذًا ئے اضافه کړی دی او دا په سورة اعراف کښ نوؤ۔

[٤٣] دَ سورة اعراف (١١٥) اوطٰهٰ (٦٥) په قرینے سره دا قول دَ موسیٰ(علیه السلام) دَ قول دَساحرانونه روستودے نومعنیٰ دا ده چه اُوئیل موسیٰ(علیه السلام) دوی ته پس دَ وئیلودَ دوی نه۔

[٤٤] فرعون دعویٰ دَعزت کوله اودَ دے وجے نه موسیٰ(علیه السلام) ته ئے مهین (سورة زخرف (٥٢) کښ) وئیلی دی نوهغه وخت عادت داوؤچه قسم به ئے دَ فرعون په عزت باندے کوؤاوشریعت دَ اللّٰه تعالیٰ کښ قسم په غیراللّٰه اودَغیر اللّٰه په صفاتوباندے شرك دے داسے حدیث امام ترمذی نقل کړیدے۔ من حلف بغیر اللّٰه فقد اشرك (الحدیث)۔

[٤٥نه تر٥١] پورے تشریح په سورة طٰهٰ کښ ذکرکړے شویده۔ فرق په ځوطریقوسره دے۔ اول داچه سورة طٰهٰ اواعراف کښ خوف دَ موسیٰ(علیه السلام) ئے ذکرکړے وؤبیا ورته وحی اوکړے شوه چه همسا اوغورځوه اوبه دے

خِلَافٍ وَّلَاُصَلِّبَنَّكُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿٤٩﴾ قَالُوْا لَا ضَيْرَ ۚ اِنَّآ اِلٰى رَبِّنَا مُنْقَلِبُوْنَ ﴿٥٠﴾ اِنَّا نَطْمَعُ اَنْ يَّغْفِرَ لَنَا
رَبُّنَا خَطٰيٰنَآ اَنْ كُنَّآ اَوَّلَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٥١﴾ وَاَوْحَيْنَآ اِلٰى مُوْسٰٓى اَنْ اَسْرِ بِعِبَادِيْٓ اِنَّكُمْ مُّتَّبَعُوْنَ ﴿٥٢﴾
فَاَرْسَلَ فِرْعَوْنُ فِى الْمَدَآئِنِ حٰشِرِيْنَ ﴿٥٣﴾ اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ لَشِرْذِمَةٌ قَلِيْلُوْنَ ﴿٥٤﴾ وَاِنَّهُمْ لَنَا لَغَآئِظُوْنَ ﴿٥٥﴾
وَاِنَّا لَجَمِيْعٌ حٰذِرُوْنَ ﴿٥٦﴾ فَاَخْرَجْنٰهُمْ مِّنْ جَنّٰتٍ وَّعُيُوْنٍ ﴿٥٧﴾ وَّكُنُوْزٍ وَّمَقَامٍ كَرِيْمٍ ﴿٥٨﴾ كَذٰلِكَ ۘ وَاَوْرَثْنٰهَا

ادل بدل او خامخا پهانسی به کړم تاسو ټول (٤٩) اُوئیل دوی هیڅ پروانیشته یقیناً مونږ خپل رب ته ورګرځیدونکی یو(٥٠) یقیناً مونږ طمعه کؤو چه بخښنه به اوکړی مونږ ته رب زمونږ دَګناهونو زمونږ دَ دے وجے نه چه مونږ اول مؤمنان یو (٥١) او وحی اوکړه مونږ موسیٰ(علیه السلام) ته چه دَ شپے بوزه بندګان زما یقیناً تاسو پسے به درتلل کیدیشی (٥٢) نو اولیږل فرعون په ښارونو کښ راجمع کوؤنکی (٥٣) (اُوئیل هغه) یقیناً دا (بنی اسرائیل) خامخا ډله لږه ده (٥٤) او یقیناً دوی مونږ لره غصه کؤونکی دی (٥٥) او یقیناً مونږ ګټو جماعت یو بیدار تیار (٥٦) پس اویستل مونږ دوی لره دَ باغونو او چینونه (٥٧) او خزانو او دَځایونو عزت مندونه (٥٨) دغسے اوکړو مونږ او پاتے کړل مونږ

سورة کښ دَ خوف ذکر نه دے شوے وجه دَ دے دا ده چه په هغه سورتونو کښ اثرِدَ سحر ئے په موسیٰ(علیه السلام) باندے ذکرکړے وؤاودلته ئے نه دے ذکرکړے اودَ خوف مناسبت دَ اثرِدَ سحر سره دے۔ دویم داچه سورة اعراف کښ فسوف تعلمون دے اوسورة طٰهٰ کښ نیشته اودلته فلسوف تعلمون ذکرکړے دے ځکه چه په دے سورة کښ ډیرتاکیدات ذکرشویدی نودا هم دَ هغے سره مناسب تاکید دے، دریم داچه دَ سورة اعراف دَمضمون موافق فرعون ته ډیره ویره وه دَخپل اقتدارنوهلته ئے ذکرکړیدے، انّ هذا لمکرمکرتموه فی المدینة لتخرجوامنها اهلها (١٢٣) اودَ سورة طٰهٰ اودَ دے سورة په مضمون کښ فرعون په خلقوباندے تلبیس اچوؤنودَ دے وجے نه اُوئیل دَخلقودَ دهوکه کولودپاره چه موسیٰ ستاسواستاذ دے تاسودَ دهٔ سره مقابله ځکه اونکړله۔ ځلورم داچه په دے سورة کښ لا ضیرذکرکړیدے ځکه چه فرعون ډیرپه تاکید سره وئیلی وؤ فلسوف تعلمون نودوی دَ هغے مقابله کښ اُوئیل چه ستا دَ دباؤپه مونږباندے هیڅ ضرر اونقصان نیشته۔ ﴿اَوَّلُ الْمُؤْمِنِيْنَ﴾ مراد دا دے چه دَ معجزے په لیدلوسره متصل ایمان ئے راوړے دے نودیته محاوره کښ اول وئیلے کیږی یا دا چه دوی په موسیٰ(علیه السلام) باندے دَ نوروخلقونه مخکښ ایمان راوړے وؤ۔

[٥٢] دَ دے ایت نه ځلورم مقام شروع دے دَ واقعے تراختتام پورے په دے کښ نجات دَ مؤمنانودَ فرعون نه اودَغرق نه ذکر کوی اوعذاب دَ کافرانو بیانوی ﴿بِعِبَادِيْٓ﴾ په دے کښ اشاره وه چه بنی اسرائیل په دغه وخت کښ دَ اللّٰه تعالیٰ په بندګئ کښ مضبوط وو ﴿اِنَّكُمْ مُّتَّبَعُوْنَ﴾ کښ اشاره وه چه په تللوکښ غفلت مستی مه کوئے ځکه چه دشمن درپسے درروان دے۔

[٥٣] دا حکمت الٰهیه دے چه فرعون پخپله خپل قوم دَغرق کیدلودپاره را جمع کړو۔ په (٣٦) ایت کښ حشرِدَ ساحرانو وؤ اوپه دے ایت کښ حشر دَ فوج اوپولیس اودَ عاموخلقو مراد دے۔

[٥٤،٥٥،٥٦] ﴿لَشِرْذِمَةٌ﴾ حقیراوسپکے ټکړے ته وئیلے کیږی اودا قول دَ فرعون دَ ډیرتکبردَ وجے نه دے ﴿لَغَآئِظُوْنَ﴾ کښ اشاره وه چه دوی زمونږدَ دین مخالفت کوی او زمونږمالونه ئے هم په دهوکه سره

بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ﴿٥٩﴾ فَاَتْبَعُوْهُمْ مُّشْرِقِيْنَ ﴿٦٠﴾ فَلَمَّا تَرَآءَ الْجَمْعٰنِ قَالَ اَصْحٰبُ مُوْسٰٓى اِنَّا لَمُدْرَكُوْنَ ﴿٦١﴾ قَالَ
كَلَّا ۚ اِنَّ مَعِيَ رَبِّيْ سَيَهْدِيْنِ ﴿٦٢﴾ فَاَوْحَيْنَآ اِلٰى مُوْسٰٓى اَنِ اضْرِبْ بِّعَصَاكَ الْبَحْرَ ؕ فَانْفَلَقَ فَكَانَ كُلُّ
فِرْقٍ كَالطَّوْدِ الْعَظِيْمِ ﴿٦٣﴾ وَاَزْلَفْنَا ثَمَّ الْاٰخَرِيْنَ ﴿٦٤﴾ وَاَنْجَيْنَا مُوْسٰى وَمَنْ مَّعَهٗٓ اَجْمَعِيْنَ ﴿٦٥﴾ ثُمَّ اَغْرَقْنَا

هغه بنی اسرائیلو ته (٥٩) پس روان شو فرعونیان په هغوی پسے ډنمر ختلو په وخت کښ (٦٠) پس هرکله چه مخامخ شوے دواړه ډلے اُوئیل ملګرو د موسیٰ(علیه السلام) یقیناً مونږ لاندے کړے شو (٦١) اُوئیل موسیٰ(علیه السلام) هیڅرے نه شی کیدے یقیناً زما سره رب زما دے خامخا ماته به لار جوړ وی (٦٢) پس وحی اوکړه مونږ موسیٰ(علیه السلام) ته چه اووهه په همسا خپلے سره دریاب نو اوچودو پس شوه هره ټکړه پشان د غونډ ئے لوئیے (٦٣) او رانزدے کړل مونږ هلته نور کسان (٦٤) اونجات ورکړو مونږ موسیٰ(علیه السلام) ته او هغه چاته چه هغه سره وؤ ټولوته (٦٥) بیا غرق کړل مونږ

اوتختول او زمونږ د حکومت نه ئے بغاوت اوکړو دا اسباب د غصے دی ﴿خٰذِرُوْنَ﴾ تیاریُو، د اسلحے نه ډك یو، بیداریُو، ﴿لَجَمِيْعٌ﴾ په معنیٰ د جماعت دے یا په معنیٰ د ټولو دے۔

[٥٧،٥٨،٥٩] اشاره ده چه د دنیامالونه هیڅ فائده نشی ورکولے کله چه عذاب راځی۔ د باغونواوچینویوبل سره مناسبت دے اودارنګ د خزانواوبنګلومناسبت دے نود دے وجے نه دوه دوه مناسب ځیزونه ئے ذیوبل سره یوځائے کړل ﴿مَقَامٍ كَرِيْمٍ﴾ هغه مکان اوکرسئ اومجلس چه بادشاه اوافسراویومالدار لره خاص وی بل څوك ئے نشی استعمالولے هغه ته مقام کریم وائی دارنګ سورة دخان (٢٥،٢٦،٢٧) کښ ذکردی هلته ئے زُرُوْع هم ذکرکړی دی اشاره ده چه په دوی کښ سرمایه داران (کنوزوالا) اوجاګیرداران (زروع والا) خلق وؤ۔ په هغه سورة کښ د عذاب دخان (قحط) ذکروؤ۔ اود هغے اثرپه فصلونوباندے موجود وی د دے وجے نه هلته ئے زروع وئیلی دی ﴿وَاَوْرَثْنٰهَا بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ﴾ سورة اعراف(١٣٧) کښ زمکه د شام ذکرکړے ده نودا معلومه شوه چه بعض بنی اسرائیل ئے واپس مصرته بوتلل اوبعضوشام ته هجرت اوکړو۔

[٦٠] د دے دینه خلقوعادت داوی چه تردَ نمرخاته نزدے پورے اودهٔ وی۔

[٦١،٦٢] ﴿مَعِيَ﴾ ئے مفرد اُوئیل ځکه چه د دهٔ په بنی اسرائیلوباندے د ډیره ملګرتیا اعتبارنه وؤاو زمونږ د نبی ﷺ په داسے وخت کښ په یوملګری چه ابوبکر رضی الله عنه دے په هغه ئے د ملګرتیا اعتماد کړے دے نوصیغه د معنا ئے ذکرکړیده لکه سورة توبه(٤٠) کښ دی۔ که سوال اوکړے شی چه د موسیٰ(علیه السلام) سره خوهارون شته پکار دے چه هغه هم د ځان سره ذکرکړے وے؟ جواب دا دے چه اِنَّا لَمُدْرَكُوْنَ ویؤنکی په طور د شکایت باندے صرف بنواسرائیل وؤ، هارون(علیه السلام) دا شکایت نه دے کړے۔

[٦٣] دا معجزه ده موسیٰ(علیه السلام) په هغے کښ اختیارنه لری ځکه هغه وحی ته محتاج وؤ۔

[٦٤،٦٥،٦٦] په دے ایاتونو کښ عذاب د غرق ذکرشوے دے ﴿وَاَزْلَفْنَا ثَمَّ﴾ اشاره ده چه دوی دریاب ته دننه په لارو کښ داخل شول۔

الْاٰخَرِيْنَ ﴿١٩٦﴾ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً ؕ وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿١٩٧﴾ وَاِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ﴿١٩٨﴾ ع وَاتْلُ
عَلَيْهِمْ نَبَاَ اِبْرٰهِيْمَ ﴿١٩٩﴾ اِذْ قَالَ لِاَبِيْهِ وَقَوْمِهٖ مَا تَعْبُدُوْنَ ﴿٢٠٠﴾ قَالُوْا نَعْبُدُ اَصْنَامًا فَنَظَلُّ لَهَا عٰكِفِيْنَ ﴿٢٠١﴾
قَالَ هَلْ يَسْمَعُوْنَكُمْ اِذْ تَدْعُوْنَ ﴿٢٠٢﴾ اَوْ يَنْفَعُوْنَكُمْ اَوْ يَضُرُّوْنَ ﴿٢٠٣﴾ قَالُوْا بَلْ وَجَدْنَاۤ اٰبَآءَنَا كَذٰلِكَ
يَفْعَلُوْنَ ﴿٢٠٤﴾ قَالَ اَفَرَءَيْتُمْ مَّا كُنْتُمْ تَعْبُدُوْنَ ﴿٢٠٥﴾ اَنْتُمْ وَاٰبَآؤُكُمُ الْاَقْدَمُوْنَ ﴿٢٠٦﴾ فَاِنَّهُمْ عَدُوٌّ لِّيْۤ اِلَّا رَبَّ

نور کسان (٦٦) یقیناً په دے کښ خامخا عبرت دے او نه دی ډیر دَ دوی نه مؤمنان (٦٧) او یقیناً ستاسو رب خامخا زور اور دے رحم والا دے (٦٨) او بیان کړه په دوی باندے خبر دَ ابراهیم(علیه السلام)(٦٩) کله چه اُوئیل هغه پلار او قوم خپل ته دَ څه عبادت کوئے (په څه دلیل)(٧٠) اُوئیل دوی بندگی کوؤ دَ شکلونو (عزت مندو) نو همیشه یو هغے ته تعظیم (عبادت) کوؤنکی (٧١) اُوئیل هغه ایا دوی اوری ستاسو کله چه تاسو بلئے دوی لره (٧٢) یا نفع درکولے شی تاسوته یا نقصان در رسولے شی (٧٣) دوی اُوئیل بلکه موندلی دی مونږ مشران خپل چه دغسے کار ئے کوؤ (٧٤) اُوئیل ابراهیم(علیه السلام) ایا خبر ئیے تاسو په حال دَ هغه چاچه تاسو هغوی له بندگی کوئے (٧٥) تاسو او مشران ستاسو زړو (٧٦) پس دوی به دشمنان شی زما (که چرے څه دَ دوی بندگی او کړم) ماسیوا دَ رب

[٦٨،٦٧] داجملے په دے سورۃ کښ په دویم ځل ذکرشویدی یعنی په دے واقعه دَ فرعون کښ عبرت دے ﴿اَكْثَرُهُمْ﴾ داضمیر راجع دے فرعونیانوته یا موجوده خلقوته۔

[٦٩] دَ دے نه دویمه قصّه (دَ ابراهیم علیه السلام) شروع شویده تر(١٠٤) پورے هرکله چه زمانه دَ موسیٰ علیه السلام دے امت ته نزدے وه بلکه دَ هغے قوم بنی اسرائیل هم موجود دی او په قرآن سره مخاطب دی نو دَ هغه قصه ئے په تفصیل سره ږواندے ذکر کړه ۔ بیا هرکله چه دے ټولویهودیانواو نصاریٰ ومشرکین عرب خپل نسبت به ابراهیم علیه السلام ته کوؤ وئیل ئے چه مونږدَ هغه اولادیواو مونږدَهغه په دین باندے یونواوس دَ هغه واقعه ذکرکوی چه په هغے کښ رد دے په مشرکینوباندے په حجت الزامی سره او تعریف دَ رب دے په ذکردَ صفاتودَ رب سره اودعاګانے دَ ابراهیم علیه السلام دی اوبیا تخویف اخروی دے هغه چالره چه دَپیغمبریه مخالفت کښ تابعداری کوی دَ مشرکانوملایانواوپیرانووغیره۔ اوهرکله چه داسے بیان ډیرعظمت شان لری اوجامع دے دَ دے وجے نه دیته ئے نَبَأ اوفرمائیل۔

[٧١،٧٠] مَاسره تپوس دَ وجے دَعبادت مقصد دے یعنی څه وجه اودلیل دے دَ دوی په عبادت باندے، اودَ هغوی دَجواب حاصل دا دے چه دا دَ بزرګانواو کواکبودَ روحانیت مرکزونه دی چه دَ دوی تعظیم په مونږباندے لازم دے ﴿فَنَظَلُّ﴾ مراد دَ دے نه هر وخت دے یا مراد دَ دے نه ورځ ده یعنی دَ ورځے دَ دے بتانوعبادت کوؤاودَشپے دَ ستوروواونمرسپوګمئے عبادت کوؤ۔

[٧٣،٧٢] مقصد دا دے چه بزرګان کیدل یا ستوری کیدل صفت دَمعبودیت نه دے بلکه صفتونه دَمعبودیت دا دی دعاګانے اوریدل او قبلول اوپه نفعے ورکولو اوضرر ورکولو اولرے کولو باندے قدرت لرل ایا دا صفتونه په دوی کښ شته؟

[٧٤] هغوی جواب ورکړو صرف په تقلید سره چه مونږ سره دلیل نیشته بغیر دَ تقلید دَ مشرانونه۔

الْعٰلَمِيْنَ ﴿٧٧﴾ الَّذِيْ خَلَقَنِيْ فَهُوَ يَهْدِيْنِ ﴿٧٨﴾ وَالَّذِيْ هُوَ يُطْعِمُنِيْ وَيَسْقِيْنِ ﴿٧٩﴾ وَاِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِيْنِ ﴿٨٠﴾
وَالَّذِيْ يُمِيْتُنِيْ ثُمَّ يُحْيِيْنِ ﴿٨١﴾ وَالَّذِيْٓ اَطْمَعُ اَنْ يَّغْفِرَ لِيْ خَطِيْٓـَٔتِيْ يَوْمَ الدِّيْنِ ﴿٨٢﴾ رَبِّ هَبْ لِيْ حُكْمًا

دَ عالمینو نه (۷۷) هغه ذات چه ځه ئې پیدا کړے یم بیا هغه ماته لار ښائی (۷۸) او هغه ذات دے چه هغه ماله خوراك راکوی اوڅکاك راکوی (۷۹) او کله چه ځه ناجوړه شم نو هغه ماله شفا راکوی (۸۰) او هغه ذات دے چه مړ کوی ماله بیا به ژوندے کوی ماله (۸۱) او هغه ذات چه طمعه لرم چه اوبه بخښی ماله خطائی زما په ورځ دَ جزا (۸۲) اے ربه را او بخښے ماته کلکے فیصلے کول

[۷۶،۷۵] مقصد دا دے چه بندگی کول ستاسواوستاسودَ مشرانو، دا خودلیل اوحجت نشی کیدلے۔ ﴿اَفَرَءَيْتُمْ﴾ مطلب دادے خبر راکړئے اوسوچ اوکړئے په حال اوعجز دَ دے معبودانوباندے صرف ستاسو بندگی کول اودَ مشرانوخودلیل نه دے۔

[۷۷] هرکله چه دلیل نیشته نوبندگی دَ غیرالله بغیرد دلیل نه سبب دَ عداوت اودَ دشمنئ دے په ورځ دَ قیامت، دَعبارت تقدیردا دے (ان عبدتهم فانهم یصیرون اعداء لی یوم القیامة) لکه سورة احقاف (٦) کښ دی یا تقدیردا دے فان عبادتهم عبادة العدوِّ(یعنی بندگی دَدوی داسے ده لکه بندگی دَ دشمنانو چه هیڅ پکارنه راځی۔

[۷۸] دے ایت نه تعریف دَ رب شروع دے په ذکردَ اته صفتونوسره اودیته توحید دَ ربوبیت وئیلے شی۔ اول داچه الله تعالیٰ خالق دے دویم داچه هدایت په تمام مرتبوسره په اختیار دَ الله تعالیٰ کښ دے(مرتبے دَ هدایت په کتاب لطائف کښ او په تفسیردَ سورة فاتحه کښ مونږذکرکړی دی) اودغه ټولے مرتبے دَخلق سره متصل شروع کیږی دَدے وجے نه حرف دَ فاء ئے ذکرکړو۔

[۷۹] په دے کښ دریم صفت اوځلورم صفت دے په دے دواړوسره قِوام دَخلق (بدن) راځی لکه چه هدایت سره قوام دَ روح حاصلیږی او دَکاملانوخلقوپه نیزقوام دَ روح محکښ دے دَ قوام دَبدن نه دَ دے وجے نه یهدین ئے مقدم کړے دے په یطعمنی باندے اولفظ دَهُوَ دَحصردپاره دے اوپه خوراك اوڅکاك ورکولوکښ دَ هغے اسباب پیدا کول (مثلاً باران ورول بوټی راویستل دّ هغے نه غلّے میوے مشروبات پیدا کول) اوپه بدن کښ دَ خوړلوڅکلو قوتونه پیداکول ټول داخل دی اوپه هغے کښ صحت دَ بدن ته هم اشاره ده او دا ټول په اختیاردَ الله تعالیٰ کښ دی۔

[۸۰] دا پنځم صفت دے اومرض هم دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه دے لیکن هغه په ظاهر نظرکښ نعمت نه دے بلکه ابتلاء ده ځکه دلته دَ هغے نسبت ئے الله تعالیٰ ته اونکړلو اومرض په بعض اوقاتوکښ راځی دَ دے وجے نه په حرف دَ اذا سره ئے ذکرکړو اودلیل دے چه انبیاء علیهم السلام دَ مرضونوبدنیونه نشی بچ کیدلے اودَ شفاء دوه معنے دی اول جوړول دَمرض دا خاص دی په الله تعالیٰ پورے دویم په معنیٰ دَ علاج باندے لکه فیه شفاء للناس کښ دا معنیٰ مراد ده۔

[۸۱] دا شپږم اواووم صفت دے اوپه دے کښ رد دے په هغه چاباندے چه دَ مرګ نسبت طبیعت اواختلاف دَ مزاج ته کوی، بلکه داپه خلق اوپه فعل دَ الله تعالیٰ سره دے اواکثرموت دَ مرض په سبب راځی دَ دے وجے نه موت ئے دَمرض نه روستو ذکرکړو بیا دوباره ژوند دَمرګ نه ځه زمانه روستو راځی

وَّ اجْعَلْنِيْ مِنْ وَّرَثَةِ جَنَّةِ النَّعِيْمِ ﴿٨٥﴾ وَاغْفِرْ لِاَبِيْۤ اِنَّهٗ كَانَ مِنَ الضَّآلِّيْنَ ﴿٨٦﴾ وَلَا تُخْزِنِيْ يَوْمَ يُبْعَثُوْنَ ﴿٨٧﴾ يَوْمَ لَا يَنْفَعُ مَالٌ وَّلَا بَنُوْنَ ﴿٨٨﴾ اِلَّا مَنْ

او یو ځائے کړے مالره دَ پوره نیکانو سره (۸۳) او همیشه اوګرځوے مالره ذکر نیك په روستنو خلقو کښ (۸٤) او اوګرځوے مالره دَ حق دارو دَ جنت دَ نعمتونو نه (۸۵) او بخښنه اوکړے زما پلار ته یقیناً دے دَ بے لارو خلقونه (۸٦) او مه شرموے مالره په ورځ دَ دوباره ژوندی کید لو (۸۷) په هغه ورځ چه نفع نه ورکوی مال او نه ځامن (۸۸) مګر هغه چاته

ځکه ثُمَّ ئے ذکر کړو۔

[۸۲] په دے کښ اتم صفت ذکر دے اوفائده دَ مغفرت دَګناهونوبه په ورځ دَ جزاء کښ ښکاره کیږی دَ دے وجے دَ یُحیینَ نه روستوپه یوم الدین سره ئے مقید کړو غوره دا ده چه دلته مراد دَ خطیئے کړے شوے ګناه نه دے ځکه چه انبیاء علیهم السلام دَ ګناهونونه پاك وی بلکه داپه طریقه دَاظهاردَبندګئ دے۔ او ﴿اَطْمَعُ﴾ کښ اشاره ده په طریقه دَ عجزوانکسارچه ځما عملونه سبب دَمغفرت نه دی یعنی بے سببه طمع دَمغفرت کوؤم ځکه چه طمع وئیلے کیږی تعلق دَ زړه ته په یوځیز پورے بغیرد سبب نه۔

[۸۳] هرکله چه ربوبیت دَ اللّٰه تعالیٰ په ذکرد صفتونواودَ نعمتونوسره بیان کړو اوس په هغے باندے تفریع کوی په ذکرد حقوقودَ رب سره چه هغه دعا اوتضرع ده رب ته نوشپږدعاګانے ذکر کوی ﴿حُكْمًا﴾ علم مضبوط په عمل سره انبیاء هم زیادت دَعلم ته محتاج دی ﴿وَّاَلْحِقْنِيْ بِالصّٰلِحِيْنَ﴾ یعنی روستودَ مرګ نه په عالم برزخ کښ ځما روح دَ صالحینوسره اوګرځوے اوپه ورځ دَ قیامت په جنت کښ دَ صالحینوسره ملګرتیا راکړے یا مراد دا دے چه توفیق راکړے دَ اتباع دَکاملو نیکانو په دنیا کښ۔

[۸٤] ﴿لِسَانَ صِدْقٍ﴾ ذکردَنیکئے نه مراد دا دے چه توحید ځما په اولادکښ جاری اوساتے اوپه دے کښ دَ پلارحصه دَ ثواب وی ځکه لِیُ وئیلے دے یا مراد دا دے چه توفیق دَ داسے عمل راکړے چه روستودَ مرګ نه دَ هغے ثواب ماته را رسیږی۔

[۸۵] سوال دَ جنت دَ انبیاؤسنت دے ځوك چه دَ متصوفونه وائی ځه جنت نه غواړم بلکه دیدارغواړم دا دَ دے ایت نه خلاف ده۔

[۸٦] سوال دَمغفرت دَپلار دپاره روستودَ وعدے نه وؤدَ هغه سره، اوبیائے دا دعاهم پریخودله نکه چه دَ دے تفصیل سورة توبه (۱۱٤) کښ تیرشویدے۔ دویم قول په دے ایت کښ دا دے چه دلته دَ وَاغفِرنه مراد طلب دَ هدایت دے۔

[۸۷] په دے کښ دَعام شرمندګئے نه بچ کیدل دی اودارنګ شرمندګی عذاب دَپلاردے دَ دهٔ په مخکښ، لکه صحیح حدیث کښ راځی مضمون ئے دا دے چه ابراهیمعليه السلام به خپل پلار لره په ناکاره حالت کښ اوینی نودے به اوائی چه یا رَبِّه تا ماسره وعده کړے وه چه تا به په قیامت کښ نه شرمنده کوؤم (یعنی دا دعا دِ ځما قبوله کړے وه) نو دَدے نه لوئے شرم کوم دے چه ځما پلار ځما په ورانده په داسے بدحالئی کښ جهنم ته ورځی نو اللّٰه تعالیٰ به دَپلاردَ ابراهیم صورت بدل کړی په ناکاره شکل سره تر دے

اَنِّیَ اللّٰهَ بِقَلْبٍ سَلِیْمٍ ﴿۸۹﴾ وَاُزْلِفَتِ الْجَنَّةُ لِلْمُتَّقِیْنَ ﴿۹۰﴾ وَبُرِّزَتِ الْجَحِیْمُ لِلْغٰوِیْنَ ﴿۹۱﴾ وَقِیْلَ لَهُمْ اَیْنَمَا كُنْتُمْ
تَعْبُدُوْنَ ﴿۹۲﴾ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ هَلْ یَنْصُرُوْنَكُمْ اَوْ یَنْتَصِرُوْنَ ﴿۹۳﴾ فَكُبْكِبُوْا فِیْهَا هُمْ وَالْغَاوٗنَ ﴿۹۴﴾ وَجُنُوْدُ
اِبْلِیْسَ اَجْمَعُوْنَ ﴿۹۵﴾ قَالُوْا وَهُمْ فِیْهَا یَخْتَصِمُوْنَ ﴿۹۶﴾ تَاللّٰهِ اِنْ كُنَّا لَفِیْ ضَلٰلٍ مُّبِیْنٍ ﴿۹۷﴾ اِذْ نُسَوِّیْكُمْ بِرَبِّ

چه ورځی الله تعالی ته په زړه روغ سره (۸۹) او نزدے به کړے شی جنت پرهیز ګارانو ته (۹۰) او بنکاره به کړیشی دوزخ سر کشانوته (۹۱) او اوبه وئیلے شی دوی ته کم ځائے کښ دی هغه کسان چه تاسو دَ هغوی بندګی کوله (۹۲) سیوا دَ الله تعالی نه ایا مدد کولے شی ستاسو یا بدل اخستلے شی (۹۳) پس پرمخے به واچولے شی په هغے کښ دوی او سر کشان (۹٤) او لښکرے دَ ابلیس ټولے (۹۵) اوبه وائی دوی او حال دا چه دوی په هغے کښ دَ یوبل سره جګړے کوی (۹۶) قسم په الله تعالی باندے یقیناً مونږ وؤ څامخا په ګمراهیٔ بنکاره کښ (۹۷) کله چه برابر ګنړلئے مونږ تاسو دَ رب

چه دَ ابراهیم علیه السلام به ترے هم نفرت پیداشی اوجهنم ته به اوغورځولے شی او ابراهیم به ئے په دغه حالت نه پیژنی نودَ شرمنده ګئے نه په داسے طریقے سره به بچ شی۔

[۸۸] په دے کښ اشاره ده چه دَ ازر (پلار دَ ابراهیم علیه السلام) مالونه پیر وؤ او ځوی ئے (ابراهیم علیه السلام) پیغمبر وؤ نو هغے ورته نفع ورنکړه دَ هغه دَ کفر دَ وجے نه۔

[۸۹] ﴿بِقَلْبٍ سَلِیْمٍ﴾ چه خالی وی دَ شرك او کفر نه اودَ بدعت اودَ حرص دَ دنیا نه او ویره کوؤنکے وی دَ الله تعالی نه اونور اندامونه دَ زړه تابع وی ځکه هغه ئے ذکر نکړل او مراد دَ دے نه مؤمن مؤحد دے دَ هغه مال او اولاد صالح هغهٔ ته به فائده ورکوی چه په شرعی طریقه ئے استعمال کړے وی یا سلیم چیچلے شوی ته وئیلے شی مراد ترینه ویریدونکے دے۔

[۹۰]هرکله چه ورځ دَقیامت ئے مخکښ ذکرکړه نوپه دے ایاتونوکښ دَهغے ورځے بعضے تفصیلی حالات ذکرکوی په دے ایت کښ بشارت دے په نزدیکت دَجنت سره یعنی متقیانوته دَ مزل کولو تکلیف نشی ورکیدے بلکه جنت به ورته نزدے کړیشی۔

[۹۱] دا تخویف اخروی دے ﴿لِلْغٰوِیْنَ﴾ دَ دے نه مراد مشرکان عابدان دی چه عبادت اوطاعت ئے کړیدے دَمشرکانوملیانو اوپیرانواو اقتدارواولواودا شرك ئے کړے وؤ په وسوسے دَ ابلیس او دَ اولاد دَ هغهٔ سره۔

[۹۲] دا تپوس دَ زور نے دے دپاره دَ اظهاردَ عجز دَ معبودانودَ دوی او مراد دَ دے معبودانونه هغه کسان دی چه هغوی هم مشرکان او بدعتیان وؤ۔

[۹۳] دَ عابدانومدد نشی کولے چه دَ عذاب نه ئے بچ کړی ﴿اَوْ یَنْتَصِرُوْنَ﴾ یعنی دَ ځان نه هم عذاب نشی دفع کولے۔

[۹٤] ﴿هُمْ﴾ نه مراد دغه معبودان دی ﴿وَالْغَاوٗنَ﴾ نه مراد عابدان دی۔

[۹۵] دَ ابلیس لښکرے هغه دی چه دَ ابلیس په وسوسے سره په مختلفو ګناهونو کښ اخته شوی دی۔

[۹۶،۹۷،۹۸،۹۹] هرکله چه دا عابدان دَ دغه معبودانونه نا امید شول نوورسره به جګړه شروع کړی۔

﴿نُسَوِّیْكُمْ﴾ مراد دادے چه کوم طاعت اوعبادت دَ الله تعالی پکار وو دغسے مونږتاسو لره کړے دے۔

الْعٰلَمِيْنَ ﴿٩٨﴾ وَمَآ اَضَلَّنَآ اِلَّا الْمُجْرِمُوْنَ ﴿٩٩﴾ فَمَا لَنَا مِنْ شَافِعِيْنَ ﴿١٠٠﴾ وَلَا صَدِيْقٍ حَمِيْمٍ ﴿١٠١﴾ فَلَوْ اَنَّ لَنَا
كَرَّةً فَنَكُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿١٠٢﴾ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً ؕ وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿١٠٣﴾ وَاِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيْزُ
الرَّحِيْمُ ﴿١٠٤﴾ كَذَّبَتْ قَوْمُ نُوْحِ ِالْمُرْسَلِيْنَ ﴿١٠٥﴾ اِذْ قَالَ لَهُمْ اَخُوْهُمْ نُوْحٌ اَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿١٠٦﴾ اِنِّيْ لَكُمْ رَسُوْلٌ
اَمِيْنٌ ﴿١٠٧﴾ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ﴿١٠٨﴾ وَمَآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ ۚ اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلٰى رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٠٩﴾ فَاتَّقُوا

الظلمین سره (۹۸) او نه وؤ بے لارے کړی مونږ لره مګر مجرمانو (۹۹) پس نیشته مونږ لره سفارش کوؤنکی (۱۰۰) او نه دوست ګرم (مهربان)(۱۰۱) پس که چرے وے مونږ لره دوباره تلل دُنیاته نو وے به مونږ دَ مؤمنانونه (۱۰۲) یقیناً په دے کښ خامخا عبرت دے او نه دی ډیر دَ دوی نه مؤمنان (۱۰۳) او یقیناً ستا رب خامخا هغه زوراور رحم کوؤنکے دے (۱۰٤) دروغژن کړے وؤ قوم دَ نوح(علیه السلام) پیغمبرانو لره (۱۰۵) کله چه اُوئیل دوی ته رور دَ دوی نوح(علیه السلام) ایا ځان نه بچ کوئے دَ عذاب نه (۱۰۶) یقیناً ځه تاسو لره رسول امانت دار یم (۱۰۷) پس اویریګئے دَ اللّٰه تعالیٰ نه (دَشرك کولو) او تابعداری اوکړئے زما (۱۰۸) او ځه نه غواړم ستاسونه په دے باندے هیڅ بدله نه ده بدله زما مګر په رب العٰلمین باندے ده (۱۰۹) پس اویریګئی

تسویه (برابری) په ټولوصفاتوکښ مراد نه ده ځکه چه ټولو مشرکانو خپل معبودان دَ اللّٰه تعالیٰ نه کم اوکوز ګڼړلی دی او وسیلے ئے ګرځولی دی اللّٰه تعالیٰ ته لکه چه لفظ دَ مِنْ دُوْنِ په ډیرو ایاتونوکښ او ایت دَ سورة یونس(۱۸)اوسورة زمر(۳) په دے باندے دلیل دے ﴿اَلْمُجْرِمُوْنَ﴾ دَ دے نه مراد ابلیس او دَ هغه ذُرِّیَّة دی دَ هغوی وسوسے سبب دَ ګمراهیٔ دَ خلقواو ګرځیدلے۔

[۱۰۰،۱۰۱،۱۰۲] په دے درے ایاتونوکښ دَبچ کیدلو درے درے طریقے ذکرکوی چه هغه طریقے دوی ته هیڅ فائده نشی ورکولے۔ سفارش، دوست مخلص ، دنیا ته واپسی۔

[۱۰۳،۱۰٤] ﴿وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ﴾ مراد دَ دے نه مخکښنی اوروستنی مراد دی یعنی په زمانه دَ ابراهیم(علیه السلام) کښ اوپه اوسنیٔ زمانه کښ اکثر خلق ایمان نه لری۔

[۱۰۵] دَ دے ایت نه دریمه واقعه شروع ده ﴿كَذَّبَتْ﴾ سره ئے شروع دَ دے وجے نه اوکړه چه په دے سورة کښ مقصد بیان دَحال دَمکذبینووؤ اوتکذیب سبب دَعذاب دے اومؤنث ئے دَ دے وجے نه راوړوچه دَ دوی سپك والے اوکړیشی ﴿اَلْمُرْسَلِيْنَ﴾ دَ دے وجے نه اُوئیل چه دَ ټولو رسولانو مقصد یودے چه هغه توحید دے نو دَ یو تکذیب سره دَ ټولو تکذیب راغے او په دے کښ اشاره ده چه انکار دَ توحید ډیرلوئے ګناه دے اومنکر دَ توحید نه دَ ټولو رسولانو په نیز باندے کافردے۔

[۱۰۶] ﴿اَخُوْهُمْ﴾ په دے سورة کښ په معنیٰ دَ ناصح اودَ خیرخواه دے اګرچه دَبل قوم نه وی اودَ هریورسول پنځه پنځه خطابات ذکرکوی اشاره ده چه دَ ټولوانبیاؤپه دے پنځه خطاباتوکښ یودین وؤ۔اول خطاب ﴿اَلَا تَتَّقُوْنَ﴾ دَ شرك اوکفرنه بچ کیدل۔

[۱۰۷] په دے کښ دویم خطاب دے ﴿لَكُمْ﴾ ئے دَ دے وجے نه مخکښ را وړو چه رسول رالیږلے کیږی دپاره دَ فائدے دَ قوم دَ هغه ﴿رَسُوْلٌ﴾ کښ اشاره ده چه دَ ځان نه خبرے نه جوړوم ﴿اَمِيْنٌ﴾ کښ

اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ﴿١١٠﴾ قَالُوْٓا اَنُؤْمِنُ لَكَ وَاتَّبَعَكَ الْاَرْذَلُوْنَ ﴿١١١﴾ قَالَ وَمَا عِلْمِيْ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿١١٢﴾
اِنْ حِسَابُهُمْ اِلَّا عَلٰى رَبِّيْ لَوْ تَشْعُرُوْنَ ﴿١١٣﴾ وَمَآ اَنَا بِطَارِدِ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿١١٤﴾ اِنْ اَنَا اِلَّا نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿١١٥﴾ قَالُوْا

دَ اللّٰه تعالٰی نه او تابعداری اوکړئے زما (۱۱۰) دوی اُوئیل ایا ایمان راوړو مونږ په تا باندے او حال دا چه تابع دی ستا سپك خلق (۱۱۱) اُوئیل هغه نیشته علم زما په (حقیقت) دَ هغه چه دوی عمل کوی (۱۱۲) نیشته حساب دَ دوی مګردے په رب زما باندے که چرے دوی پوهیدلے (۱۱۳) او نه یم ځه شړونکے دَ مؤمنانو (۱۱٤) نه یم ځه مګر ویره ور کوؤنکے ښکاره (۱۱۵) دوی اُوئیل

اشاره ده چه په پیغام دَاللّٰه تعالٰی کښ هیڅ نقصان نه کوؤم۔

[۱۰۸] په دے کښ دریم اوځلورم خطاب دے مراد دَ تقویٰ نه توحید دے او مراد دَ اطاعت نه اتباع دَ سنت دَ رسول ده معلومه شوه چه دَ ټولومقصد دعوت دَ توحید او دَ سنت وؤ۔

[۱۰۹] په دے کښ پنځم خطاب دے مراد دَ دے نه اخلاص دے او تبلیغ دَ دین په انبیاء علیهم السلام باندے فرض عین دے دَ دے وجے نه په هغوی باندے اجرت اخستل حرام وؤ ۔ دارنګ هرچا باندے چه یو عبادت فرض عین شی نوهغه باندے اجرت اخستل دَ دغه عبادت حرام وی۔

[۱۱۰] دا جمله ئے مکررکړے ده دَ دے وجے نه چه مراد دَ تقویٰ نه دَ شرك اوکفر نه روستو دَ نور ګناهونونه ځان بچ کول دی او مراد دَ اطاعت نه تابعداری په اعمالوکښ ده روستو دَ تابعدارئے کولونه په عقائدو کښ۔

[۱۱۱] دَ دعوت دَ بیان نه روستوتکذیب دَ قوم ذکرکوی اودا تفصیل دَکذبت دے اوپه دے جمله کښ دَکافرانودَ طرف نه درے خبرے مقصد دی۔ اول داچه سپك کارونه کوؤنکی اوکمزوری اوبے عزته خلق دی اوداسے تمام باطل پرست خلق حق پرستو ته سپك ګوری اګرچه حق پرست په نسب کښ اوچت وی دَ دے وجے نه دلته دَ اَرَذَلُونَ نه دَ نسب کوزوالے مراد نه دے دویم مقصد، دے ملګروپه زړه کښ په تا ایمان نه دے راوړے هسے سر سری اوښکاره تابعداری کوی۔ دریم مقصد دا دے چه دوی ارزل دی اومونږاشرف (دَ مالدارئے دَ وجے نه) نومونږ دَ دوی سره په مجلس کښ کیناستل بده خبره ګنړونودوی دَ خپل مجلس نه اوشړه دَ دے وجے نه په روستو درے ایاتونوکښ دَ دے درے خبرو په ترتیب سره جواب ورکوی۔

[۱۱۲] په دے کښ دَ اولے خبرے جواب دے مراد دا دے چه ځه دَ دوی دَ سپك کارونه خبرنه یم۔

[۱۱۳] دا دَ دویمے خبرے جواب دے چه دَ زړه دَ ایمان علم ماسره نیشته دَ هغے حساب دَ اللّٰه تعالٰی سره دے دَ دے وجے نه ظاهرحال ته په شرع کښ اعتبار دے۔

[۱۱٤] دا دَ دریمے خبرے جواب دے حاصل دا دے چه دَ دوی ایمان ته اعتبار دے غریبئے ته ئے نظر نه کوؤ او ایمان والادَ ځان نه شړلے نشم۔

[۱۱۵] اشاره ده چه ځه هرکار دَ اللّٰه تعالٰی په اجازت سره کوؤم اوپه مسئله کښ دَ هیڅا رعایت نه کوؤم۔

لَئِنْ لَّمْ تَنْتَهِ يٰنُوْحُ لَتَكُوْنَنَّ مِنَ الْمَرْجُوْمِيْنَ ﴿١١٦﴾ قَالَ رَبِّ اِنَّ قَوْمِيْ كَذَّبُوْنِ ﴿١١٧﴾ فَافْتَحْ بَيْنِيْ وَبَيْنَهُمْ
فَتْحًا وَّنَجِّنِيْ وَمَنْ مَّعِيَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿١١٨﴾ فَاَنْجَيْنٰهُ وَمَنْ مَّعَهٗ فِي الْفُلْكِ الْمَشْحُوْنِ ﴿١١٩﴾ ثُمَّ اَغْرَقْنَا بَعْدُ
الْبٰقِيْنَ ﴿١٢٠﴾ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً ؕ وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿١٢١﴾ وَاِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ﴿١٢٢﴾ كَذَّبَتْ
عَادُ ِۨ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿١٢٣﴾ اِذْ قَالَ لَهُمْ اَخُوْهُمْ هُوْدٌ اَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿١٢٤﴾ اِنِّيْ لَكُمْ رَسُوْلٌ اَمِيْنٌ ﴿١٢٥﴾ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَ
اَطِيْعُوْنِ ﴿١٢٦﴾ وَمَآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ ۚ اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلٰى رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٢٧﴾ اَتَبْنُوْنَ بِكُلِّ رِيْعٍ اٰيَةً

که چرے منع نه شوے ته اے نوح(علیه السلام) خامخا شے به ته دَ سنګسار کړے شوؤ نه (۱۱٦) اُوئیل دهٔ اے ربه زما یقیناً زما قوم دروغژن کړو ماله (۱۱۷) پس فیصله اوکړه په مینځ زما اوپه مینځ دَ دوی کښ فیصله او بچ کړے ماله او هغه څوك چه ملګری زما دی دَ ایمان والو نه (۱۱۸) پس بچ کړو مونږ دهٔ له او هغه څوك چه دَ دهٔ ملګری وؤ په کشتئے ډکه کړے شوے کښ (۱۱۹) بیا غرق کړل مونږ پس دَ دے نه باقی خلقو له (۱۲۰) یقیناً په دے کښ خامخا عبرت دے اونه دی ډیر دَ دوی نه ایمان والا (۱۲۱) او یقیناً ستا رب خامخا زور اور او رحم کوؤنکے دے (۱۲۲) دروغژن کړی وؤ عادیانو پیغمبرانو له (۱۲۳) کله چه اُوئیل دوی ته رور دَ دوی هود(علیه السلام) ایا ځان نه بچ کوئے دَ عذاب نه (۱۲٤) یقیناً زه تاسو له رسول امانت دار یم (۱۲۵) نو اویریګئے دَ اللّٰه تعالیٰ نه او تابعداری کوئے زما (۱۲٦) اونه غواړم زه ستاسو نه په دے باندے هیڅ بدله نه ده بدله زما مګر ده په رب دَ عالمینو باندے (۱۲۷) ایا ابادوئے په هره ډیرے باندے نخښه

[۱۱٦] دَ قوم سره هیڅ حجت او دلیل نوؤ نودباؤ نه ئے شروع کړل او داسے دَ ټولو باطل پرستوحال دے اودا دَ تکذیب دویمه درجه ده۔

[۱۱۷] دَ قوم په مقابله کښ اللّٰه تعالیٰ ته عاجزی کول شروع کړل اوداشهادت دَ نبی دے دَ قوم په تکذیب کولوباندے یعنی دوی تر اوسه پورے ایمان قبول نه کړو او توبه دَ تکذیب نه نه اوباسی نو دوی دَ عذاب مستحق دی۔

[۱۱۸] دا دُعا دَ شرده په قوم باندے هرکله چه دَهغوی دَایمان نه نا امیده شوپه سبب دَوحی دَاللّٰه تعالیٰ لکه چه سورهٔ هود کښ تیرشویدی اودعاده دپاره دَنجات دَاهل ایمان اوفتح په معنیٰ دَواضحه فیصلے ده مرادترینه عذاب دے په دغه قوم باندے۔

[۱۱۹] دا قبولیت دَ دویمے دعا دے ﴿الْفُلْكِ﴾ دلته مفرد مذکر دے ځکه صفت ئے هم مذکر دے۔

[۱۲۰] دا قبولیت دَ اولے دعا دے ﴿الْبَاقِيْنَ﴾ ئے ځکه اُوئیل چه دَ هغوی نه علاوه په دنیا کښ نور انسانان نه وؤ صرف هغوی باقی پاتے وؤ دَ مؤمنانو دَ نجات نه روستو۔

[۱۲۱،۱۲۲] عذاب په دشمنانومکذبینواونجات دَ مؤمنانو دپاره دابله نمونه ده۔

[۱۲۳،۱۲٤،۱۲۵،۱۲٦،۱۲۷] دا ځلورمه واقعه ده چه عادیانو تکذیب کړے وؤنوعذاب پرے نازل شواودَ هود(علیه السلام) دَبیان خلاصه ئے په پنځوخبرو کښ ذکرکړه۔

تَعْبَثُوْنَ ﴿١٢٨﴾ وَتَتَّخِذُوْنَ مَصَانِعَ لَعَلَّكُمْ تَخْلُدُوْنَ ﴿١٢٩﴾ وَاِذَا بَطَشْتُمْ بَطَشْتُمْ جَبَّارِيْنَ ﴿١٣٠﴾ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَ
اَطِيْعُوْنِ ﴿١٣١﴾ وَاتَّقُوا الَّذِيْٓ اَمَدَّكُمْ بِمَا تَعْلَمُوْنَ ﴿١٣٢﴾ اَمَدَّكُمْ بِاَنْعَامٍ وَّبَنِيْنَ ﴿١٣٣﴾ وَجَنّٰتٍ وَّعُيُوْنٍ ﴿١٣٤﴾ اِنِّيْٓ
اَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ﴿١٣٥﴾ قَالُوْا سَوَآءٌ عَلَيْنَآ اَوَعَظْتَ اَمْ لَمْ تَكُنْ مِّنَ الْوٰعِظِيْنَ ﴿١٣٦﴾ اِنْ هٰذَآ اِلَّا

عبث کار کوؤنکی ئیے (۱۲۸) او جوړوئ بنګلے دَ دے دپاره چه تاسو به همیشه اوسئے (۱۲۹) او کله چه نیول کوئے تاسو نو نیول کوئے ظلم کؤونکی (۱۳۰) نو اویریګئے دَ اللّٰه تعالیٰ نه او تابعداری اوکړئے زما (۱۳۱) او اویریګئے دَ هغه ذات نه چه زیاتی کړیدی هغه نعمتونه چه تاسو ئے پیژنئے (۱۳۲) زیاتی کړیدی تاسو لره څاروی او ځامن (۱۳۳) او باغونه اوچینے (۱۳٤) یقیناً ځه ویریږم په تاسو باندے دَ عذاب دَ ورځے لوئے نه (۱۳۵) اُوئیل دوی برابره خبره ده په مونږ باندے که وعظ کوے ته یا نه ئے ته دَ وعظ کوؤنکو نه (۱۳٦) نه دی دا مګر

[۱۲۸] دَ شرك نه علاوه دغه قوم دنیا پرست اوسرمایه دار وؤنوپه هغے باندے زورَ نه ورکوی ﴿رِيْعٍ﴾ په معنیٰ دَ ډیرئے، او په معنیٰ دَ لارے، اودره دَ مینځ دَغرونو هریو معنیٰ مراد کیدے شی۔ دوی به په داسے ځایونوکښ دَخپل قومیت نخښے اومینارے جوړلے لکه اوس چه قومی اوحکومتی مینارونه جوړوی اوپه هغے باندے بے شماره روپئے خرچ کوی بغیرڈَځه فائدے نه داعادت دَ جاهلانودے ﴿تَعْبَثُوْنَ﴾یعنی دا نخښے ئے عبث اوبے فائدے جوړولے یا داچه په لارے تیریدونکو پسے مسخرے اوعبث کارونه کوئے۔

[۱۲۹] ﴿مَصَانِعَ﴾ په معنیٰ دَ مضبوط او اوچتے بنګلے یا حوضونه دَ اوبولیکن بے مقصده به ئے جوړول ﴿لَعَلَّكُمْ﴾ په معنیٰ دَ استفهام توبیخی دے یا لعل په معنیٰ دَ کے دے یعنی ستاسو دا اراده ده چه فنا به په تاسوباندے نه راځی یعنی مرګ موهم هیرکړے دے۔

[۱۳۰] دَ سرمایه دارئے سره دَ هغوی صفت دَ ظلم ذکرکوی یعنی سرمایه دار ظالم اوناترسه وی۔ ﴿بَطَشْتُمْ﴾ بَطْشَ رانیول بغیرد جرم نه او وژل، بے عزته کول ﴿جَبَّارِيْنَ﴾ جبارهغه څوك دے چه دَ ځان دپاسه هیڅ قانون نه منی خود سراوسرکش وی دوی هم دَ اللّٰه تعالیٰ قانون نه منلو۔

[۱۳۱] دا تقویٰ او اطاعت په باره دَ احکامو کښ مراد دے۔

[۱۳۲] دا تذکیردے په نعمتونوسره او بِمَا تَعْلَمُوْنَ کښ اجمال او ابهام دے اشاره ده ډیروالی ته او تَعْلَمُوْنَ کښ اشاره ده چه پوهیږئے چه دا نعمتونه دَ طرف دَ اللّٰه تعالیٰ نه دی۔

[۱۳۳،۱۳٤] دا تفصیل دَ ماقبل دے اشاره ده چه دوی ډیر جاګیردار وؤ او اولاد (ځامن) ئے هم په کثرت سره وؤ۔

[۱۳۵] دا تخویف دے په عذاب سره دَ وجے دَناشکر ئے دَ دغه نعمتونونه۔

[۱۳٦]دا دَ هغوی جابریت اوسرکشی ده چه نبی ته ئے اُوئیل ستا وعظ په مونږ باندے اثرنه کوی۔

خُلُقُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿١٣٧﴾ وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِيْنَ ﴿١٣٨﴾ فَكَذَّبُوْهُ فَاَهْلَكْنٰهُمْ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً ؕ وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ
مُّؤْمِنِيْنَ ﴿١٣٩﴾ وَاِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ﴿١٤٠﴾ كَذَّبَتْ ثَمُوْدُ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿١٤١﴾ اِذْ قَالَ لَهُمْ اَخُوْهُمْ صٰلِحٌ اَلَا ع ١٨
تَتَّقُوْنَ ﴿١٤٢﴾ اِنِّيْ لَكُمْ رَسُوْلٌ اَمِيْنٌ ﴿١٤٣﴾ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ﴿١٤٤﴾ وَمَآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ ۚ اِنْ اَجْرِيَ
اِلَّا عَلٰى رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٤٥﴾ اَتُتْرَكُوْنَ فِيْ مَا هٰهُنَآ اٰمِنِيْنَ ﴿١٤٦﴾ فِيْ جَنّٰتٍ وَّعُيُوْنٍ ﴿١٤٧﴾ وَّزُرُوْعٍ وَّنَخْلٍ طَلْعُهَا
هَضِيْمٌ ﴿١٤٨﴾ وَتَنْحِتُوْنَ مِنَ الْجِبَالِ بُيُوْتًا فٰرِهِيْنَ ﴿١٤٩﴾ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ﴿١٥٠﴾ وَلَا تُطِيْعُوْٓا اَمْرَ الْمُسْرِفِيْنَ ﴿١٥١﴾

عادتونه دَ زړو خلقو دی (۱۳۷) اونه یو مونږ عذاب راکړے شوی (۱۳۸) نو دوی دروغژن کړو هغه پس هلاك کړل مونږ دوی لره یقیناً په دیکښ خامخا عبرت دے اونه دی ډیر دَ دوی نه مؤمنان (۱۳۹) او یقیناً ستا رب خامخا هغه زوراور رحم کوؤنکے دے (۱۴۰) دروغژن کړیوؤ ثمودیانو پیغمبرانو لره (۱۴۱) کله چه اُوئیل دوی ته رور دَ دوی صالح(علیه السلام) ایا ځان نه بچ کوئے دَ عذاب نه (۱۴۲) یقیناً ځه تاسو لره رسول امانت دار یم (۱۴۳) نو اویریګئے دَ اللّٰه تعالیٰ نه او تابعداری کوئے زما (۱۴۴) او ځه نه غواړمه ستاسونه په دے باندے هیڅ بدله نه ده بدله زما مګر په رب العٰلمین باندے ده (۱۴۵) ایا تاسوبه پریخودلے شئے په هغه نعمتونو کښ چه دلته دی امن والا (۱۴۶) په باغونو کښ او چینو کښ (۱۴۷) او فصلونو کښ او کجورو کښ چه غونچکونه دَ هغے تازه (نرم) دی (۱۴۸) او کنستل کوئے تاسو دَ غرونونه کوټے بے فائدے (۱۴۹) پس اویریګئے دَ اللّٰه تعالیٰ نه او زما تابعداری اوکړئے (۱۵۰) او تابعداری مکوئے دَ طریقے دَ تیروتونکو دَ حدنه (۱۵۱)

[۱۳۷] هٰذا اشاره ده عذاب ته یعنی (قحط وغیره) چه ته ئے عذاب ګنړے دا عذاب نه دے داسے عادات اوګردش دَ زمانے په مخکښنوخلقوباندے هم راغلی دی۔ یا اشاره ده ابادئے او ظلمونو کولو ته چه دا زمونږ دَ مشرانو طریقه ده۔

[۱۳۸] یعنی دا عذاب نه دے (کوم قحطونه وغیره چه په مونږ باندے راځی) یا داچه په مونږ باندے هیڅ عذاب نشی راتللے ځکه چه ډیر قوت والا یو۔

[۱۳۹، ۱۴۰] اشاره ده چه سبب دَ هلاکت تکذیب دے۔ اونوره تشریح مخکښ تیره شویده۔

[۱۴۱ نه ۱۴۵] پورے په دے ایاتونو کښ پنځمه واقعه ده۔ دَ قوم دَ صالح(علیه السلام) چه ثمودیان دی اودَ دے نبی په بیان کښ هم پنځه خبرے دی۔

[۱۴۶] دا قوم هم جاګیرداراوصنعتکار وؤاودائے سبب دَ امن دَ عذاب نه ګنړلوپه دے وجه زجر ورکوی۔ ﴿مَاهٰهُنَآ﴾ هغه نعمتونه چه ستاسوپه دے وطن کښ دی دا اجمال دے۔

[۱۴۷، ۱۴۸] دا تفصیل دے دَ نعمتونو، هرکله چه دوی جاګیردار وؤ یعنی جائیداد او زمکے ئے ډیرے وے دَ دے وجے نه ﴿زُرُوْعٍ وَّنَخْلٍ﴾ ئے ذکر کړو ﴿طَلْعُهَا﴾ اول چه اونے دَ کجورے نه دَ ځانګو په ویخونو کښ کسوړه غوندے راښکاره شی چه په هغے کښ دننه دَ نرونرو دانووګی وی هغه کسوړے ته طلع وئیلے کیږی او دارنګ دننه وګی ته هم طلع وئیلے کیږی دلته دویمه معنیٰ مراد ده ﴿هَضِيْمٌ﴾ نرم، چه یوبل سره

الَّذِيْنَ يُفْسِدُوْنَ فِي الْاَرْضِ وَلَا يُصْلِحُوْنَ ﴿١٥٢﴾ قَالُوْٓا اِنَّمَآ اَنْتَ مِنَ الْمُسَحَّرِيْنَ ﴿١٥٣﴾ مَآ اَنْتَ اِلَّا بَشَرٌ
مِّثْلُنَا ۙ فَاْتِ بِاٰيَةٍ اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿١٥٤﴾ قَالَ هٰذِهٖ نَاقَةٌ لَّهَا شِرْبٌ وَّلَكُمْ شِرْبُ يَوْمٍ مَّعْلُوْمٍ ﴿١٥٥﴾
وَلَا تَمَسُّوْهَا بِسُوْٓءٍ فَيَاْخُذَكُمْ عَذَابُ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ﴿١٥٦﴾ فَعَقَرُوْهَا فَاَصْبَحُوْا نٰدِمِيْنَ ﴿١٥٧﴾ فَاَخَذَهُمُ الْعَذَابُ ؕ
اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً ؕ وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿١٥٨﴾ وَاِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ﴿١٥٩﴾ كَذَّبَتْ قَوْمُ لُوْطِ ۣ ع ١٩

هغه کسان چه ورانے کوی په ملك کښ او اصلاح نه کوی (۱۵۲) اُوئیل دوی یقیناً ته دَ جادو کړے شوؤ نه ئے (۱۵۳) نه ئے ته مګر بنده ئے زمونږ پشان پس راوړه ته یونخښنه که چرے ته دَ رشتینو نه ئے (۱۵٤) اُوئیل هغه دا اوښه ده دے لره نمبر د اوبودے او تاسو لره نمبر دَ اوبو دَ ورځے معلومے دے (۱۵۵) اومه رسوئے دے ته هیڅ تکلیف پس اوبه نیسی تاسو لره عذاب دَ ورځے لوئے (۱۵٦) پس دوی پریکړل اندامونه دَ هغے پس شول دوی پښیمانه (۱۵۷) پس اونیوؤ دوی لره عذاب یقیناً په دے کښ شته عبرت اونه دی ډیر دَ دوی نه مؤمنان (۱۵۸) او یقیناً رب ستا خامخا هغه زور آور رحم کوؤنکے دے (۱۵۹) دروغژن کړل قوم دَ لوط(علیه السلام)

پیوست وی او چه ګوتے ورته نزدے کوے نو دوړیږی۔ او قرطبی دَ ماوردی نه دولس اقوال دَ دے په معنیٰ کښ نقل کړی دی۔

[۱٤۹] دا زجردے دَ هغوی په بے فائدے اوبے ضرورته صنعتکارئ دَ ګټو باندے په دے زمانه کښ هم په ډیرو وطنونو کښ دا کارونه شروع دی ﴿فَارِهِيْنَ﴾ خپل مهارت ښکاره کوؤنکی، لوئی کوؤنکی، عبث کار کوؤنکی، بے خوفه بے خطره۔

[۱۵۰] دا دویم کرت تقویٰ او اطاعت په اعمالو کښ مراد دے۔

[۱۵۲،۱۵۱] دَصالح(علیه السلام) په مقابله کښ نهه کسان بدمعاشان وؤ اودَ هغه دَ قوم دَپاره پیشوایان وؤدَ صالح(علیه السلام) دَ تابعدارئے نه ئے منع کوله اوخپل اطاعت ته ئے خلق رابلل نو په دے ایاتونو کښ دَ هغوی دَ اطاعت نه منع کوی او دَ هغے درے درجے ذکر کوی۔ اسراف، فساد، عدم اصلاح۔

[۱۵٤،۱۵۳] په دے کښ دَ انکار دوه وجے ذکر کړیدی ﴿الْمُسَحَّرِيْنَ﴾ اوله معنیٰ داچه په تا باندے سحر کړے شویدے یا داچه (ته تریخی والائے) خوراك اوڅکاك ته محتاج ئے۔ دویم داچه زمونږ پشان بشر ئے بیا ئے مطالبه دَ معجزے کړے ده۔

[۱۵۵] دَ معجزے مطالبه پوره شوه دَګټے نه ورله اوښه راپیداکړله او دَ دوی چینه دَ اوبووه چه دَ هغے نه به ئے څاروی اوبه کول دَ هغے نمبرئے ورسره مقرر کړو۔

[۱۵٦] دا ذکردَ ادب دَ معجزے دے اوبے ادبی دَ هغے سبب دَ عذاب دے۔

[۱۵۷] دا نهایت بے ادبی اوهتك دَ هغے وؤ چه دَ حلالولوپه ځائے ټکړے ټکړے ئے کړه ﴿نَادِمِيْنَ﴾ پښیمانه شول په وخت دَ راتلودَ عذاب کښ اودغه وخت توبه نه قبلیږی۔

[۱۵۹،۱۵۸] عذاب دَ هغوی په سورة اعراف او سورة هود کښ ذکر کړے شوے دے۔

الْمُرْسَلِيْنَ ﴿١٦٠﴾ اِذْ قَالَ لَهُمْ اَخُوْهُمْ لُوْطٌ اَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿١٦١﴾ اِنِّيْ لَكُمْ رَسُوْلٌ اَمِيْنٌ ﴿١٦٢﴾ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ﴿١٦٣﴾
وَمَآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ ۚ اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلٰى رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٦٤﴾ اَتَاْتُوْنَ الذُّكْرَانَ مِنَ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٦٥﴾ وَ
تَذَرُوْنَ مَا خَلَقَ لَكُمْ رَبُّكُمْ مِّنْ اَزْوَاجِكُمْ ۭ بَلْ اَنْتُمْ قَوْمٌ عٰدُوْنَ ﴿١٦٦﴾ قَالُوْا لَىِٕنْ لَّمْ تَنْتَهِ يٰلُوْطُ لَتَكُوْنَنَّ مِنَ
الْمُخْرَجِيْنَ ﴿١٦٧﴾ قَالَ اِنِّيْ لِعَمَلِكُمْ مِّنَ الْقَالِيْنَ ﴿١٦٨﴾ رَبِّ نَجِّنِيْ وَاَهْلِيْ مِمَّا يَعْمَلُوْنَ ﴿١٦٩﴾ فَنَجَّيْنٰهُ وَاَهْلَهٗٓ اَجْمَعِيْنَ ﴿١٧٠﴾

رسولانو لره (١٦٠) کله چه اُوئیل دوی ته رور (خیر خواه) دَ دوی لوط(علیه السلام) ایا ځان نه بچ کوئے دَ عذاب نه (١٦١) یقیناً ځه تاسو لره رسول امانت دار یم (١٦٢) نواو یریکئے دَ اللّٰه تعالیٰ نه او زما تابعداری کوئے(١٦٣) اونه غواړم ستاسونه په دے باندے هیڅ بدله نه ده بدله زما مګر په رب العٰلمین باندے ده (١٦٤) ایا تاسو بدکاری کوئے دَ نارینو سره دَ خلقو نه (١٦٥) او پریږدئے هغه چه حلال کړیدی تاسو لره رب ستاسو دَ بیبیانو ستاسو نه بلکه تاسو قوم ئے دَ حدنه تیروتونکی (١٦٦) دوی اُوئیل که چرے منع نه شوے ته اے لوط خامخا شے به ته دَ ویستلے شوؤ نه (١٦٧) اُوئیل هغه یقیناً ځه ستاسو عمل لره دَ بدګنړونکو نه یم (١٦٨) اے ربه زما بچ اوساتے ماله او کورنئ زما دَسزا دَ هغه عمل نه چه دوی ئے کوی (١٦٩) پس بچ کړو مونږ دے او دَ دهٔ کورنئے ټوله (١٧٠)

[١٦٠ نه ١٦٤] پورے شپږمه قصه ده دَ قوم دَ لوط(علیه السلام) په دے کښ پنځه امورذکرکړی دی دا دلیل دے چه لوط(علیه السلام) دَ نورو انبیاؤ پشان دَ توحید اودَ اطاعت خپل قوم ته دعوت کړے وؤ او دَ شرك اوکفر نه ئے منع کړی وؤ۔

فائده: سورة اعراف کښ دَ لوط(علیه السلام) په باره کښ اَخُوْهُمْ نه دے ذکر کړے ځکه چه هلته دَ اَخ نه مراد قومی رورولی ده او لوط(علیه السلام) دَ هغه قوم نه نوؤ۔ او په دے سورة کښ اَخُوْهُمْ ذکر کړے دے ځکه چه دلته مراد دَ رور نه خیر خواه او ناصح دے او هر پیغمبر دَ خپل قوم خیر خواه وی ۔ اوبله وجه دا هم وئیلے شویده چه دَ دے قوم سره ئیے سخرګنی وه دَ دے وجے دلته دارورولی مراد ده۔

[١٦٥،١٦٦] دَ شرك نه علاوه هغه قوم دَ نارینو په بدکارئے کښ اخته شوے وو او خپلے سڅے ئے پریخودلے وے او نورے بداخلاقئ دَمرغانوساتل دَ هغے جنګول اومیلمنو پورے مسخرے کول په داسے عملونوکښ اخته شوی وؤپه اَنْتُمْ قَوْمٌ عَادُوْنَ کښ دیته اشاره ده ۔نوپه دے ایاتونو کښ هغوی لره زورنه ورکوی۔

[١٦٧] دا دباؤ وؤ دَ دے قوم دَ طرف نه لیکن دَ بے غیرتئ دَ وجے نه داسے نشی وئیلے چه مونږ به تا اوباسو بلکه وائی چه ځوك به دے اوباسی۔

[١٦٨] انبیاء علیهم السلام دَچاپه دباؤسره حق نه پریږدی ﴿الْقَالِيْنَ﴾ دَ قلی نه اخستے شوے دے لکه ماودعك ربك وماقلی، سورة الضحیٰ (٣) اوقلی بُغض اونفرت کول اوبدګنړلوته که طبعًا وی او که شرعاً وی هم وئیلے کیږی۔

[١٦٩ نه تر١٧٥] پورے۔ په ظاهرکښ دعا دَ نجات ده دَ خپل ځان اواهل دپاره او په حقیقت کښ دعا شرده په قوم باندے هرکله چه دَ هغوی دَ ایمان نه نا امیده شو ﴿عَجُوْزًا﴾ سره ئے تعبیراوکړو اشاره وه چه دا ترآخرعمرپورے په شرك اوپه کفر کښ وه ﴿الْغَابِرِيْنَ﴾ هغه خلق چه په عذاب کښ پاتے شول تر همیشه

اِلَّا عَجُوْزًا فِي الْغٰبِرِيْنَ ﴿١٧١﴾ ثُمَّ دَمَّرْنَا الْاٰخَرِيْنَ ﴿١٧٢﴾ وَاَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ مَّطَرًا ۚ فَسَآءَ مَطَرُ الْمُنْذَرِيْنَ ﴿١٧٣﴾ اِنَّ
فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً ؕ وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿١٧٤﴾ وَاِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ﴿١٧٥﴾ كَذَّبَ اَصْحٰبُ لْـَٔيْكَةِ ع ١٠
الْمُرْسَلِيْنَ ﴿١٧٦﴾ اِذْ قَالَ لَهُمْ شُعَيْبٌ اَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿١٧٧﴾ اِنِّيْ لَكُمْ رَسُوْلٌ اَمِيْنٌ ﴿١٧٨﴾ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ﴿١٧٩﴾
وَمَآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ ۚ اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلٰى رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٨٠﴾ اَوْفُوا الْكَيْلَ وَلَا تَكُوْنُوْا مِنَ الْمُخْسِرِيْنَ ﴿١٨١﴾
وَزِنُوْا بِالْقِسْطَاسِ الْمُسْتَقِيْمِ ﴿١٨٢﴾ وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ اَشْيَآءَهُمْ وَلَا تَعْثَوْا فِي الْاَرْضِ مُفْسِدِيْنَ ﴿١٨٣﴾ وَاتَّقُوا

مگر بوډئ په پاتے کیدونکو کښ وه (۱۷۱) بیا هلاك کړل مونږ نور خلق (۱۷۲) او باران او روړلو مونږ په دوی باندے نا اشنا باران بد دے باران ډیره ورکړے شوؤ (۱۷۳) یقیناً په دے کښ خامخا عبرت دے اونه دی ډیر دَ دوی نه مؤمنان (۱۷٤) او یقیناً ستا رب خامخا هغه زورآور رحم کوؤنکے دے (۱۷۵) دروغژن کړل بنړوالو پیغمبرانو لره (۱۷٦) هرکله چه اُوئیل دوی ته شعیب(علیه السلام) ایا ځان دَ عذاب نه نه بچ کوئے (۱۷۷) یقیناً ځه تاسو لره رسول امانت دار یم (۱۷۸) نو اویریګئے دَ اللّٰه تعالیٰ نه او تابعداری زما کوئے (۱۷۹) او ځه نه غواړم ستاسونه په دے باندے هیڅ بدله نه ده بدله زما مګر ده په رب العٰلمین باندے (۱۸۰) پوره کوئے پیمانه او مه کیږئ دَ کمے کوؤنکو نه (۱۸۱) او تول کوئ په تله برابر سره (۱۸۲) اومه نیمګړے کوئے دَ خلقو نه مالونه دَ هغوی اومه ګرځئے په ملك کښ فساد کوؤنکی (۱۸۳) او اویریګئ

پورے اودَ دے نه معلومه شوه چه په قوم لوط علیه السلام کښ مرض دَشرك وؤاوهغه سبب وؤدپاره دَ عذاب دَ دغه زنانه ﴿فَسَآءَ مَطَرُ الْمُنْذَرِيْنَ﴾ کښ اشاره ده چه دَ دے قوم هیڅ عذرنوؤ ځکه چه دوی ته پوره انذار کړے شوے وؤ۔

[۱۷٦نه تر۱۸۰] پورے په دے کښ اوومه قصه ذکر ده دَ شعیب علیه السلام او دَقوم دَ هغه اصحاب الایکة۔ غوره دا ده چه دابل قوم دے سیوا دَ اصحاب مدین نه ځکه دَ دوی عذاب هم جدا دے دَعذاب دَمدین والونه۔ شعیب علیه السلام هم پنځه خبرے ذکر کړی دی۔

فائده: دَ شعیب علیه السلام په باره کښ اَخُوْهُمْ نه دے وئیلے ځکه چے دے دَ اصحاب الایکة قومی رورنه وؤبلکه دَ مدین والو رور وؤاو که دَ خیرخواه په معنیٰ سره ئے ذکر کړے وے نوالتباس او اشتباه به پیداشویوے چه شاید دے ئے قومی رور وؤ ځکه چه دَ دهٔ په باره کښ سورة اعراف کښ اَخُوْهُمْ وئیلے وؤ۔

[۱۸۱،۱۸۲،۱۸۳] قوم دَ شعیب علیه السلام سرهٔ دَ شرك کولونه په تجارت کښ ظلم کوؤ دَ مال دَ کمۍلو دَپاره دَ خیانت طریقے ئے اختیار کړے وے دَ دے وجے نه شعیب علیه السلام دَ هغے دَ اصلاح کوشش کوو ۔ تشریح دَ دے په سورة اعراف او سورة هود کښ تیره شویده ﴿بِالْقِسْطَاسِ﴾ قسطاس عربی لفظ دے دَ قِسط نه اخستلے شویدے او رومی ژبه کښ هم استعمالیږی۔

الَّذِيْ خَلَقَكُمْ وَالْجِبِلَّةَ الْاَوَّلِيْنَ ﴿١٨٤﴾ قَالُوْٓا اِنَّمَآ اَنْتَ مِنَ الْمُسَحَّرِيْنَ ﴿١٨٥﴾ وَمَآ اَنْتَ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا
وَاِنْ نَّظُنُّكَ لَمِنَ الْكٰذِبِيْنَ ﴿١٨٦﴾ فَاَسْقِطْ عَلَيْنَا كِسَفًا مِّنَ السَّمَآءِ اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿١٨٧﴾ قَالَ رَبِّيْٓ
اَعْلَمُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿١٨٨﴾ فَكَذَّبُوْهُ فَاَخَذَهُمْ عَذَابُ يَوْمِ الظُّلَّةِ ۭ اِنَّهٗ كَانَ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ﴿١٨٩﴾ اِنَّ
فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً ۭ وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿١٩٠﴾ وَاِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ﴿١٩١﴾ وَاِنَّهٗ لَتَنْزِيْلُ رَبِّ
الْعٰلَمِيْنَ ۭ ﴿١٩٢﴾ نَزَلَ بِهِ الرُّوْحُ الْاَمِيْنُ ﴿١٩٣﴾ عَلٰي قَلْبِكَ لِتَكُوْنَ مِنَ الْمُنْذِرِيْنَ ﴿١٩٤﴾ بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُّبِيْنٍ ﴿١٩٥﴾

دَ هغه ذات نه چه تاسوئے پیدا کړی ئے او خلق مخکښنی (١٨٤) دوی اُوئیل یقیناً ته دَ جادو کړے شوؤ نه ئے (١٨٥) او نه ئے ته مګر بنده ئے زمونږ پشان او یقیناً ګمان کؤو مونږ په تا باندے خامخا دَ دروغژنونه (١٨٦) نو را اوغورځوه په مونږ ټکړے دَ اسمان نه که چرے ته ئے دَ رشتینو نه (١٨٧) اُوئیل هغه رب زما ښهٔ پوهیږی په هغه عملونو باندے چه تاسو ئے کوئے (١٨٨) پس دوی هغه ته دروغژن اوئیل نو اونیولو دوی لره عذاب دَ ورځے دَوریځے یقیناً دا دے عذاب دَ ورځے لوئیے (١٨٩) یقیناً په دے کښ خامخا عبرت دے اونه دی ډیر دَ دوی نه مؤمنان (١٩٠) او یقیناً ستا رب خامخا هغه زورآور او رحم کوؤنکے دے (١٩١) او یقیناً دا قرآن خامخا نازل کړے شوے دے دَ رب دَ مخلوقاتونه (١٩٢) راکوز شوے دے په دهٔ سره روح امانت دار (١٩٣) ستا په زړه باندے دَ دے دپاره چه ته شے دَ ویره ورکوؤنکو نه (١٩٤) په ژبه عربی ښکاره (١٩٥)

[١٨٤] دَ دے امردَ تقویٰ نه مراد تقویٰ ده په اعمالو کښ اودَ خیانتونودَ مالونونه بچ کیدل ﴿الْجِبِلَّةَ﴾ جمع ده په معنیٰ کښ دَ دے وجے نه صفت ئے جمع ذکر کړے شویدے ډیرخلقوته وئیلے کیږی اوهرکله چه دَ دهٔ قوم نه وړاندے ډیر قومونه (چه په دے سورة کښ ذکر شول) تیرشوی وؤدَ دے وجے نه شعیب علیه السلام دَ هغوی مخلوقیت په دلیل کښ ذکر کړو۔

[١٨٦،١٨٥] په دے کښ درے اعتراضونه دی دَ طرف دَمنکرینونه۔

[١٨٧] په دے کښ طلب دَ عذاب دے او دا مبالغه ده په تکذیب کښ۔

[١٨٨] اشاره ده چه عذاب ځما په اختیار کښ نیشته اللّٰه تعالیٰ ستاسو په عملونو خبر دے چه دا سبب دَ استحقاق دَ عذاب دے۔

[١٩٠،١٩١،١٨٩] اکثرمفسرینو ذکرکړیدی چه په دوی باندے سخته ګرمی مسلط شوه میوه او سورے او اوبه ورته نه ملاویدلے ناسپه دَ وریځے سورے په دوی باندے راغے دوی دَ هغے دَلاندے راجمع شول نو دَ مخے نه په دوی باندے اور راو وریدو معلومه شوه چه اصحاب الایکة دَ مدین والونه غیر وؤ ځکه چه په هغوی باندے عذاب دَ رجفے اوصیحے راغلے وؤ۔

[١٩٢] دَ دے ایت نه دریم باب دَ سورة دے ترآخردَ سورة پورے په دے کښ صدق دَ رسول اودَ کتاب دے په لس وجهوسره بیاتخویف دنیوی اوزجردے بیا جوابونه دی دَ دوو شبهوپه رسالت باندے اوپه مینځ کښ پنځه اموردی دَپاره دَ داعی او اختتام دے په تخویف دنیوی سره۔ هرکله چه دَ قصو مخکښنو نه

وَاِنَّهٗ لَفِيْ زُبُرِ الْاَوَّلِيْنَ ﴿١٩٦﴾ اَوَلَمْ يَكُنْ لَّهُمْ اٰيَةً اَنْ يَّعْلَمَهٗ عُلَمٰٓؤُا بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ﴿١٩٧﴾ وَلَوْ نَزَّلْنٰهُ عَلٰى
بَعْضِ الْاَعْجَمِيْنَ ﴿١٩٨﴾ فَقَرَاَهٗ عَلَيْهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ مُؤْمِنِيْنَ ﴿١٩٩﴾ كَذٰلِكَ سَلَكْنٰهُ فِيْ قُلُوْبِ الْمُجْرِمِيْنَ ﴿٢٠٠﴾
لَا يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ حَتّٰى يَرَوُا الْعَذَابَ الْاَلِيْمَ ﴿٢٠١﴾ فَيَاْتِيَهُمْ بَغْتَةً وَّهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿٢٠٢﴾ فَيَقُوْلُوْا

او یقیناً دا قرآن (خبر دَ دے) خامخا په کتابونو دَ مخکښنو کښ دے (۱۹۶) او ایا نیشته دوی لره نخښه چه پوهیږی (دَ دهٔ په صدق باندے) عالمان دَ بنی اسرائیلو (۱۹۷) او که چرے نازل کړے وے مونږ دا کتاب په بعضے عجمیانو باندے (۱۹۸) پس لوستلے به ئے وے دا په دوی باندے نوؤ دوی په دهٔ باندے ایمان راوړونکی (۱۹۹) د غسے ورننه باسو مونږه په زړونو دَ مجرمانو کښ (۲۰۰) ایمان نه راوړی دوی په دے قرآن تردے پورے چه اُوینی دوی عذاب درد ناك لره (۲۰۱) پس رابشی دوی ته ناګهه او دوی به نه پوهیږی (۲۰۲) نو وائی به دوی

معلومه شوه چه تکذیب دَ رسولانو سبب دَ عذاب دے نو صدق دَ دے رسول او بیا تخویف دَ عذاب منکرینوته ذکرکوی دپاره دَ دے چه تکذیب نه توبه اوباسی۔ په دے اته ایاتونوکښ لس وجوهات ذکرکوی دپاره دَ صدق دَ رسول اودَ قرآن ۔ په دے (۱۹۲) کښ دوه وجوهات دی۔

[۱۹۳] په دے ایت کښ دریمه وجه ده ﴿الرُّوْحُ الْاَمِيْنُ﴾ نه مراد جبرائیل علیه السلام دے دلته کښ دَ قرآن صدق اوامانت ثابتول مقصد دی دَدے وجے نه دَ جبرائیل صفت ئے په الامین سره ذکرکړے دے اوپه کوم ځائے کښ چه دَ قرآن نه اعتراض دفع کول مقصد وی یعنی دَ قرآن تقدس ثابته وی نو هلته دَ جبرائیل صفت په القدس سره ذکرکیږی۔

[۱۹٤] په دے ایت کښ ځلورمه او پنځمه وجه ذکر کړے شویده۔

[۱۹۵] په دے کښ شپږمه او اومه وجه ئے ذکرکړے ده ﴿مُبِيْنٍ﴾ کښ اشاره ده نهایت فصاحت او بلاغت دَ قرآن ته۔

[۱۹٦] په دے ایت کښ اتمه وجه ذکر ده مراد دا دے چه خبرَ دے قرآن په مخکښ کتابونوکښ شته یا تصدیق دَ دے په مخکښنوکتابونوکښ شته یامضمون دَ دے قرآن په مخکښنوکتابونوکښ هم شته اوچاچه وئیلی دی چه نفس قرآن په مخکښنوکتابونوکښ شته به غیرَ دے الفاظونه نومعلومه شوه چه قرآن نوم دَ معنیٰ دے دا قول باطل دے امام ابوحنیفهٔ رحمه الله هم دَ دے قول نه رجوع کړیده۔

[۱۹۷] په دے کښ نهمه وجه دَ صدق دَ قرآن ده چه علماء دَ بنی اسرائیلو دَ دے په صدق باندے عالم اوشاهد وؤ۔

[۱۹۸،۱۹۹] په دے ایاتونوکښ لسمه وجه ده چه عربیت دَ دے رسول دَ دوی دَایمان دپاره سبب ښکاره دے۔ اوپه دے کښ زجرهم دے چه سرهٔ دَ دینه دوی ایمان نه راوړی اوپه قرائت دَ عجمیٔ سره دوی ایمان نه راوړی دَ وجے دَ تکبر اودَ تعصب نه یا دَ دے وجے نه چه عجمیت کښ دَ عربیت په شان کمال نیشته دَ دے وجے نه اخری کتاب او رسول دپاره عربیت خاص کړے شو۔

[۲۰۰،۲۰۱] په دے کښ زجردے په انکار دَ قرآن سره یعنی چه دَ اول نه مجرم وی په تکذیب یا په

هَلْ نَحْنُ مُنْظَرُوْنَ ﴿٢٠٣﴾ اَفَبِعَذَابِنَا يَسْتَعْجِلُوْنَ ﴿٢٠٤﴾ اَفَرَءَيْتَ اِنْ مَّتَّعْنٰهُمْ سِنِيْنَ ﴿٢٠٥﴾ ثُمَّ جَآءَهُمْ
مَّا كَانُوْا يُوْعَدُوْنَ ﴿٢٠٦﴾ مَآ اَغْنٰى عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يُمَتَّعُوْنَ ﴿٢٠٧﴾ وَمَآ اَهْلَكْنَا مِنْ قَرْيَةٍ اِلَّا لَهَا مُنْذِرُوْنَ ﴿٢٠٨﴾
ذِكْرٰى ۛ وَمَا كُنَّا ظٰلِمِيْنَ ﴿٢٠٩﴾ وَمَا تَنَزَّلَتْ بِهِ الشَّيٰطِيْنُ ﴿٢١٠﴾ وَمَا يَنْۢبَغِيْ لَهُمْ وَمَا يَسْتَطِيْعُوْنَ ﴿٢١١﴾ اِنَّهُمْ عَنِ السَّمْعِ
لَمَعْزُوْلُوْنَ ﴿٢١٢﴾ فَلَا تَدْعُ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ فَتَكُوْنَ مِنَ الْمُعَذَّبِيْنَ ﴿٢١٣﴾ وَاَنْذِرْ عَشِيْرَتَكَ الْاَقْرَبِيْنَ ﴿٢١٤﴾

ایا مونږله مهلت راکولے شی (۲۰۳) ایا عذاب زمونږ دوی په تادے سره غواړی (۲۰٤) ایا پس ته پوهه ئے که چرے مزے دَ دنیا ورکړو مونږ دوی لره څوکاله (۲۰۵) بیا راشی دوی ته هغه عذاب چه دوی لره په هغے باندے ویره ورکیدیشی (۲۰٦) دفع به نه کړی دَ دوی نه (دا عذاب) هغه مزے چه دوی له ورکیدیشی (۲۰۷) اونه دے هلاك کړے مونږ هیڅ کلے مګر هغے لره ویره ورکوؤنکی دی (۲۰۸) دپاره دَ نصیحت اونه یو مونږ ظلم کوؤنکی (۲۰۹) اونه دے کوز راؤړے دا قرآن شیطانانو (۲۱۰) اونه خائیږی دَ دوی دَ شان سره اونه دوی طاقت لری (۲۱۱) یقیناً دوی دَ اوریدلونه خامخا شړلے کیږی (۲۱۲) پس مه رابله دَ اللّٰه تعالیٰ سره چه اِلٰه (حاجت روا) ئے ګنړے بل پس شے به دَ عذاب ورکړے شوؤ نه (۲۱۳)او اویروه قبیله خپله نزدے (په نسب کښ)(۲۱٤)

شك کولو سره نودَهغه په زړه کښ انکار دَ قرآن داخل کړیشی نو بیا بالکل ایمان نه راوړی څو پورے چه عذاب ئے نه وی لیدلے یعنی دَ یو کفرنه بل کفر پیدا کیږی ﴿سَلَكْنَاهُ﴾ نسبت اللّٰه تعالیٰ ته داسے دے لکه خَتَمَ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ، کښ او(ه) ضمیر انکار ته راجع دے چه مَا كَانُوْا بِهٖ مُؤْمِنِيْنَ په هغے باندے دلیل دے۔

[۲۰۳،۲۰۲] دا تخویف دنیوی دے﴿فَيَاْتِيَهُمْ﴾جواب دَ لَا يُؤْمِنُوْنَ دے او اَن پکښ مقدر دے او دارنګ فَيَقُوْلُوْا هم دے۔

[۲۰٤] دا مستقل زجردے سره دَ تخویف نه۔

[۲۰۷،۲۰٦،۲۰۵] دا جواب دَ استعجال دے حاصل دا دے چه عذاب په دوی باندے که هروخت راشی لیکن دَ دوی عمراودَ دنیا سازو سامان دوی له هیڅ فائده نشی ورکولے نو بیا ولے استعجال کوی په عذاب سره۔

[۲۰۹،۲۰۸] دا هم جواب دَ استعجال دے یعنی دوی عذاب غواړی لیکن عادت الٰهیه دا دے چه رسول راشی او پوره انذار اوکړی او تذکیر ورکړی روستو دَ هغے نه په سبب دَ انکار دَ دوی سره عذاب راځی۔ ﴿ذِكْرٰى﴾ یعنی يَتَذَكَّرُوْنَ ذِكْرٰى ۔ یا دا مفعول له دے دَپاره دَ مُنْذِرُوْنَ یعنی الانذار لاجل التذکیر۔

[۲۱۲،۲۱۱،۲۱۰] په دے ایاتونوکښ جواب دے دَاولے شبهے په باره دَ رسول اودَ قرآن کښ دوی وئیل داکاهن دے او قرآن اخبارد کهانت دے (کاهن هغه څوك دے چه دعویٰ کوی دَ علم دَ غیبو خبرو دَ تیر شوؤ یا راتلونکو په واسطه دَ جنّاتو مسخّر کړے شوؤ سره) دَ جواب حاصل دا دے چه کاهنانو لره خبرونه شیطانان (سرکش جنّات) راوړی هر جنی دَ هغه تابع نه وی او دا قرآن جبرائیل علیه السلام راوړے دے (لکه چه په (۱۹۳)کښ تیرشو) دا شیطانانونه دے راوړے دا اول جواب دے۔ دویم داچه دا قرآن دَ صدق اودَ هدایت دَ وجے نه دَ شیطانانوسره مناسب نه دے دَ شیطان خبرے اوکار دَ دروغو او دَ ګمراهئے وی او دا قران

وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ لِمَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٢١٥﴾ فَاِنْ عَصَوْكَ فَقُلْ اِنِّيْ بَرِيْٓءٌ مِّمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿٢١٦﴾ وَتَوَكَّلْ عَلَى الْعَزِيْزِ الرَّحِيْمِ ﴿٢١٧﴾ الَّذِيْ يَرٰىكَ حِيْنَ تَقُوْمُ ﴿٢١٨﴾ وَتَقَلُّبَكَ فِي السّٰجِدِيْنَ ﴿٢١٩﴾ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿٢٢٠﴾ هَلْ

او کوزساته وزر خپل هغه چاته چه تابعداری کوی ستا دَ ایمان والو نه (۲۱۵) پس که دوی ستا نافرمانی اوکړی نو ورته اُوایه یقیناً ځه بے زاره یم دَ هغه نه چه تاسو ئے کوئے (۲۱۶) او ځان اوسپاره په زورآور او رحم کوؤنکی باندے (۲۱۷) هغه ذات دے چه وینی تاله کوم وخت چه ته اودریږے (۲۱۸) او اوړیدل ستا په سجده کوؤنکو کښ (۲۱۹) یقیناً اللّٰه تعالیٰ هغه هرڅه اوری او په هرڅه باندے پوهیږی (۲۲۰) ایا

خوټول رشتیا خبرے اودَ هدایت دی۔ دریم داچه شیطانان دَ دے قرآن دَ راوړلو طاقت هم نه لری ځکه چه دوی مجلس دَملائکوته غوږ نشی کیخودلے بلکه زغلولے کیدیشی لکه سورة حجر(۱۸)کښ اوسورة صافات (۸)کښ دی انهم عن السمع آه داعلت دَ مایستطیعون دے۔

فائده:﴿السَّمْع﴾ اثر مرتب دے په استماع باندے یعنی اگر چه دوی استماع کوی په طریقه دَ (استَرق السمع) سره لیکن دَ اوریدلونه اوشړلے شی۔

[۲۱۳] دَا بیان دَ فرق دے په مینځ دَ دعوت دَ شیطانانواودَ مقصد دَ قرآن کښ، یعنی شیطانان دَ غیر اللّٰه نه حاجتونه غواړی او شرك کوی او شرك ته دعوت ورکوی اوته دَ قرآن دَ مقصد موافق دَ غیر اللّٰه نه حاجات مه غواړه کله چه اله ئے اوګنړے (یعنی واکدارد هرڅه اوغیبدان) ئے اوګنړے اوحاجات ترینه غواړے دا خوشرك دے اوقرآن خودعوت دَ توحید ورکوی خطاب په دے کښ پیغمبرته دے لیکن مراد ترینه امتیان دی۔ اودَ دے ایت نه تر (۲۲۰) پورے پنځه اداب دَ داعی دَ حق دپاره ذکر کوی په دے کښ اول ادب دے چه داعی دے دَ مشرکانو دَ تشبیه او دَ عذاب دَ اسبابونه ځان اوساتی۔

[۲۱٤] په دے کښ دویم ادب دَ داعی دَپاره ذکرکوی یعنی صاف دعوت ورکول خپلے قبیلے اوخپلوانوته اګرچه مشران دی لوے نسب والادی دا دَدے دپاره چه نورخلق طعن اونکړی چه خپلوانوته هیڅ نه وائی اومونږته مسئلے کوی دویم دَدے دَپاره چه خلق پوهه شی چه دے په دین کښ دَ خپل اولوئے سړی لحاظ نه کوی دریم چه خپلوان دَ دهٔ نه دا طمع اونه لری چه دے به زمونږخبره اومنی۔ بله خاصه وجه په دعوت دَ قریشو کښ دا ده چه په هغوی باندے دَ نورو خلقو اعتماد وو او دوی پشان دَ پیرانو وو او عام خلق دَ دوی مریدان او تابع وؤ اوهرکله چه متبوع اوپیرایمان راوړی نوتابعدار او مریدان ضرور ایمان راوړی نو دوی ته دعوت ذریعه ده دَ دعوت دَ عام کولو دپاره۔

[۲۱۵] دا دریم ادب دے په باره دَ ملګروکښ چه داعی دِ خپلوملګرو سره شفقت اونرمی کوی اوداسے سورة حجر (۸۸) کښ تیرشویدی۔ دَمرغانوعادت دے چه الوځی نووزرے پورته کړی اوکله چه کوځیږی نووزرے خکته کړی نوداکنایه ده دَتواضع اوانکسارد ملګرو سره۔

[۲۱٦] دا څلورم ادب دے په باره دَ مخالفت کوؤنکو کښ یعنی څوك چه پیغمبرنه مخالفت کوی نودَ هغه نه برائت کول دی اوپه اعلان برائت کښ مقصد دا دے چه څوك دَ دے جرم نسبت داعی ته اونکړی۔

[۲۱۷نه تر۲۲۰] پورے دا پنځم ادب دے یعنی هرکله چه دَ مخالفینو برائت کول ګران کاردے نودَ

اُنَبِّئُكُمْ عَلٰى مَنْ تَنَزَّلُ الشَّيٰطِيْنُ ﴿٢٢١﴾ تَنَزَّلُ عَلٰى كُلِّ اَفَّاكٍ اَثِيْمٍ ﴿٢٢٢﴾ يُّلْقُوْنَ السَّمْعَ وَاَكْثَرُهُمْ كٰذِبُوْنَ ﴿٢٢٣﴾
وَالشُّعَرَآءُ يَتَّبِعُهُمُ الْغَاوٗنَ ﴿٢٢٤﴾ اَلَمْ تَرَ اَنَّهُمْ فِيْ كُلِّ وَادٍ يَّهِيْمُوْنَ ﴿٢٢٥﴾ وَاَنَّهُمْ يَقُوْلُوْنَ مَا لَا يَفْعَلُوْنَ ﴿٢٢٦﴾

خبر درکړم تاسو لره په باره دَ هغه چاچه راکوزیګی په هغه باندے شیطانان (۲۲۱) راکوزیګی په هر ډیر دروغژن ګناهګار باندے (۲۲۲) اچوی دوی (په غوګونو دَکاهنانو کښ) اوریدلے شوے خبرے او ډیر دَ دوی نه دروغژن دی (۲۲۳) او شاعران روان وی په هغوی پسے سرکشان خلق (۲۲٤) ایا ته نه ګورے چه دوی په هره کنده کښ ګلوډګرځی (۲۲۵) او یقیناً دوی وائی هغه چه دوی ئے نه کوی (۲۲٦)

هغے علاج توکل علی اللّٰه دے اودَهغه پنځه صفات ئے ذکرکړیدی چه هغه دلیل دَ صحت اودَ حصردے دَ توکل دپاره په اللّٰه تعالیٰ پورے ﴿حِيْنَ تَقُوْمُ﴾ هرقیام ته شامل دے اوخصوصاً دَ خوب نه بیداری دپاره دَ عبادت دَ شپے ﴿وَتَقَلُّبَكَ﴾ حالت بدلیدل دَ قیام نه رکوع ته اودَ رکوع نه سجدے ته اودَ سجدے نه قعدے ته اودَ قعدے نه قیام ته دا ټول اشاره ده اعمالودَ مانځه ته ﴿فِي السّٰجِدِيْنَ﴾ نور ملګری مونږ کوؤنکی دَ جماعت یعنی اللّٰه تعالیٰ عالم دے که دَشپے مونږ کوی اوکه دَ ورځے اوکه یوائے مونږ کوی اوکه په جماعت سره۔

[۲۲۱،۲۲۲،۲۲۳] اول ئے حال دَ شیطانانوبیان کړوبیا ئے حال دَ صالحینوبیان کړونواوس حال دَملګرودَ شیاطینو بیانوی اودَ جواب دَشپے تتمه ده حاصل داچه ملګری دِ شیطانانودروغژن ګناهګار تلبیس دَ رشتیا اودَ باطلوکوی اودا پیغمبر اوصحابه دَدے صفاتونه پاك دی نوځرنګ شبهه کوئے۔ ﴿اَفَّاكٍ اَثِيْمٍ﴾ دا دَکاهن صفتونه دی ﴿يُّلْقُوْنَ السَّمْعَ﴾ په معنیٰ دَمسموع دے مطلب دا دے چه کومه یوه خبره ئے دَملائکونه آوریدلی وی هغه دَکاهن په غوګ کښ اوغورځوی اوداکاهن ورسره نور دروغ دَ ځان دَ طرف نه ګلډکړی نوهرکله چه دَ هغه یوه خبره رشتیا معلومه شی نوخلق دَ هغه دَنورودروغوتصدیق کوی هم دارنګ حدیث صحیح کښ ذکردی۔ یا السَّمْعَ په معنیٰ دَ غوګ دے یعنی شیطانان ملائکوته غوګ کیدی او دروغ خبرے ورسره ګلډے کړی۔

[۲۲٤] په دے ایت کښ دَ دویمے شبهے جواب دے منکرینو وئیل چه دا شاعردے اودا قرآن دَ دهٔ شعر دے او دَ منکرینوپه نیز دا ثابته وه چه شاعردروغولره په شعرسره خائسته کوی اوخلقوباندے اثرکوی۔ جواب ورکوی په درے طریقوسره په دے ایت کښ۔ اوله طریقه دَ جواب ده استدلال بالصاحب والقرین (مثال دے چه سړی ته مګوره ملګری ته ئے اوګوره) یعنی دَشاعرانو تابعدار اوملګری ګمراهان، بدمعاشان، فاسقان وی اودَ دے نبی ﷺ صحابه سجده کوؤنکی ژړاکوؤنکی دنیا سره محبت نه کوؤنکی دی۔ (دارنګ په تفسیرسراج المنیرکښ دی)

فائده: هرکله چه دَخائسته صفاتودَصحابونه صدق دَنبی ﷺ باندے استدلال اوکړے شونولازمی نتیجه داده چه څوك دَ صحابه کراموبدی وائی اوهغوی ته سب اوشتم کوی نوهغه دَ نبی تکذیب کوی۔

[۲۲۵] په دے کښ دویمه طریقه دَ جواب ده چه شاعران بے هوده کلام او متضاد خبرے اودَ دنیا دَ لالچ دَ وجے نه دَ چا مدح اودَ چا هجوکوی۔ اولفظ دَ ﴿يَهِيْمُوْنَ﴾ کښ تشبیه دَ دوی ورکوی دَ اوبنانو وګوتګوسره چه هرے کنډے اوصحراء ته دَ خوراك ځکاك په حرص کښ ګرځی۔ اوهر چه قرآن او دَ دے

اِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَذَكَرُوا اللّٰهَ كَثِيْرًا وَّانْتَصَرُوْا مِنْۢ بَعْدِ مَا ظُلِمُوْا ؕ وَسَيَعْلَمُ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْۤا اَيَّ مُنْقَلَبٍ يَّنْقَلِبُوْنَ ﴿٢٢٧﴾ ع

مګر هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے او عملونه کوی نیك (په تابعدارئے د سنت کښ) اویا دوی الله تعالی لره ډیر او بدل ئے واخستو د دے نه روستو د هغے چه دوی باندے ظلم کړے شویدے او زر دے چه پوهه به شی هغه کسان چه ظلم ئے کړے دے چه کوم ارخ ته دوی آوړی (۲۲۷)

نبی ﷺ حال دے نو د هدایت او د حکمت د خبرونه ډك دے دنیا پرستئ اوهوا پرستئ نه خالی دے۔

[۲۲٦] په دے کښ دریمه طریقه د جواب ده چه د شاعرانو قول اوعمل مختلف وی۔ د رسول د محبت شعرونه وائی او سیرت او صورت ئے د هغے نه خلاف وی نورو خلقو له د نیکو اعمالو او د سخاوت وغیره ترغیبونه ورکوی او پخپله پرے عمل نه کوی ۔ او د دے نبی اود ده د ملګروقول اوعمل بالکل یوشان دی۔

[۲۲۷] هرکله چه شاعرانوکښ صحیح مؤمنان هم شته لکه په صحابه کرامو کښ حسان بن ثابت ﷺ او نورهم ، د دے وجے نه د هغوی استثناء کوی او ځلور صفتونه ذکرکوی ایمان، عمل صالح، ذکر کثیر، بدله او انتقام اخستل ، یعنی د دوی اشعارو کښ ایمان او اعمال صالحو ته ترغیب وی او د الله تعالی ثنا او حمد باندے مشتمل وی او هرکله چه کافران شاعران د نبی ﷺ یا د مسلمانانو یا د اسلام هجو اوکړی نو دوی دٰپاره د انتصار د هغوی په هجو کښ جوابی اشعار وائی ځکه دا هم یو قسم جهاد باللسان دے ځکه چه مشهوره ده د غشی زخم جوړیږی خو د ژبے زخم نه جوړیږی اوپه آخرد سورت کښ تخویف شدید دے ظالمانوشاعرانواونورومنکرینوته ﴿سَيَعْلَمُ﴾ کښ تهدید دے ﴿الَّذِيْنَ ظَلَمُوْۤا﴾ کښ تعمیم دے ﴿اَيَّ﴾ کښ ابهام دے ﴿مُنْقَلَبٍ﴾ کښ د دوی د نعمتونواوخوشحالوانقلاب ته اشاره ده چه دابه په غمونوسره بدلے شی ځکه چه لفظ د مرجع اکثر وئیلے کیږی واپس کیدل اول حال ته اولفظ د مُنْقَلَبٍ واپس کیدل دی بدل حال ته ﴿يَنْقَلِبُوْنَ﴾ کښ تجدُّد د انقلاب ته اشاره ده چه حالت به ئے نوے نوے فساد او خرابئے طرف ته بدلیږی۔

سُوْرَةُ النَّمْلِ (٢٧) مَكِّيَّةٌ (٢٨) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ٩٣ رُكُوْعَاتُهَا ٧

طٰسٓ ۚ تِلْكَ اٰيٰتُ الْقُرْاٰنِ وَكِتَابٍ مُّبِيْنٍ ۙ﴿١﴾ هُدًى وَّ بُشْرٰى لِلْمُؤْمِنِيْنَ ۙ﴿٢﴾ الَّذِيْنَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ

طاسین، دا ایاتونه دَ قرآن او دَکتاب بنکاره کوؤنکی(دَ حق او باطل) دی(۱) هدایت دے اوخوشحالی ده د پاره دَ مؤمنانو (۲) هغه کسان دی چه پابندی کوی دَ مانځه

سورة النمل

دویم نوم ئے سورة سلیمان دے۔

ربط: دَ دے سورة دَ سورة شعراء سره دادے (۱) چه په هغه سورة کښ اظهاردَ غضب اونعمت الٰهیه وؤنوپه دے سورة کښ اظهاردَعلم اودَحکمت دَ اللّٰه تعالیٰ دے (۲) په هغه سورة کښ نقلی دلیلونه وؤپه توحید باندے نوپه دے سورة کښ دوه دوه علتونه ذکرکوی دَپاره دَ رد دَ شرك (۳) دَهغه سورة په آخرکښ صدق دَ قرآن ئے ذکرکړو په دفع کولودَ شبهاتوسره نوپه دے سورة کښ ترغیب ورکوی قرآن ته۔

دعویٰ دَ دے سورة: اثبات دَ توحید دَ الوهیت دَ اللّٰه تعالیٰ دے په دوه علتونوسره۔ اول علت دا دے چه ټول بزرګان بندګان سلامتیا اوعفت کښ اللّٰه تعالیٰ ته محتاج دی۔ دویم عِلت دادے علم غیب په اللّٰه تعالیٰ پورے خاص دے اودا دواړه علتونه په ضمن دَځلورو قصّوکښ ذکرکوی او دارنګ په عقلی دلیلونو سره په رد دَ الوهیت دَ غیراللّٰه باندے۔

خلاصه دَ دے سورة دا ده: چه دا سوة تقسیم دے درے بابونوته۔ اول باب تر(۷) پورے دے په دے کښ ترغیب دے قرآن کریم ته په ذکردَځلورووصفاتودَ قرآن اوځلورصفات دَ اهل قرآن او زجردے منکرینودَ قرآن ته اوتخویف اخروی اوتسلی ده نبی ﷺ ته۔

تفسیر

[۱] دا دَ مقطعاتونه دے اوکیدے شی چه طا اشاره وی حکمتونوته چه په طور کښ ئے موسیٰ علیه السلام ته ورکړی وؤ اوهغه سبب اوګرځیدو دپاره دَسقوط دَ فرعون چه غیرشرعی سیاست ئے کوؤ۔ اوسین اشاره وی حکمتونودَسلیمان علیه السلام ته چه تعلق لری دَ شرعی سیاست سره۔ اومیم په دے سورة کښ ئے نه دے ذکرکړے ځکه چه احوال دَ محمد ﷺ ئے په دے سورة کښ په اختصارسره ذکرکړی دی بیاپه دے کښ ترغیب دے قرآن کریم ته اوپه دے کښ ئے دوه اوصاف ذکرکړی دی۔ اول کِتَابٍ اشاره ده جامعیت دَ دے ته۔ دویم مُبِیْنٍ، سرهٔ دَ جامعیت نه وضاحت دَ مقاصدو۔

[۲] په دے کښ نوردوه صفتونه دَ قرآن ذکردی هدایت دے عظیم مقصدونو ته اوپه دے سره خفګان اوتکلیف نه زیاتیږی بلکه بُشریٰ دے یعنی مؤمنانولره خوشحالی زیاتوی۔ اویو صفت دَاهل قرآن ذکر کوی۔ ﴿لِلْمُؤْمِنِيْنَ﴾ اشاره ده چه دغه فائدے مؤمنانوته بنکاره کیږی۔

وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ هُمْ يُوْقِنُوْنَ ۝٣ اِنَّ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ زَيَّنَّا لَهُمْ اَعْمَالَهُمْ
فَهُمْ يَعْمَهُوْنَ ۝٤ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ لَهُمْ سُوْٓءُ الْعَذَابِ وَهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ هُمُ الْاَخْسَرُوْنَ ۝٥ وَاِنَّكَ لَتُلَقَّى
الْقُرْاٰنَ مِنْ لَّدُنْ حَكِيْمٍ عَلِيْمٍ ۝٦ اِذْ قَالَ مُوْسٰى لِاَهْلِهٖٓ اِنِّيْٓ اٰنَسْتُ نَارًا ؕ سَاٰتِيْكُمْ مِّنْهَا بِخَبَرٍ اَوْ اٰتِيْكُمْ
بِشِهَابٍ قَبَسٍ لَّعَلَّكُمْ تَصْطَلُوْنَ ۝٧ فَلَمَّا جَآءَهَا نُوْدِيَ اَنْ بُوْرِكَ مَنْ فِي النَّارِ وَمَنْ حَوْلَهَا ؕ وَ

او ورکوی زکوٰة او دوی په اخرت هم دوی یقین لری (۳) یقیناً هغه کسان چه ایمان نه راوړی په آخرت باندے خائسته کړی دی مونږ دوی ته عملونه دَ دوی نو دوی ګلړ وړ دی (٤) دا هغه کسان دی چه دوی له ناکاره عذاب دے او دوی به په اخرت کښ هم دوی تاوان والا وی (٥) او یقیناً ته خامخا ښودلے شی تاته قرآن دَ طرف دَ حکمت والا او په هرڅه پوهیدونکی ذات نه (٦) کوم وخت چه اُوئیل موسیٰ(علیه السلام) خپل کور والا ته یقینا مالیدلے دے اور، زرده چه رابوړم تاسوته دَ هغے نه خبر (دَلارے) یا به راوړم تاسوته شغله لیت بل کړے دَ دے دپاره چه تاسو تاوده شئے (۷) پس هرکله چه راغے موسیٰ(علیه السلام) هغے ته اواز ورکړے شوچه برکت ورکړے شویدے هغه چاته چه په طلب دَ دے اور کښ دے اوهغه څوك چه دَ دے چاپیره دی او

[۳] درے صفتونه ئے دَ اهل قرآن ذکر کړی دی چه دا صفتونه په ایمان بالقرآن سره پیدا کیږی۔

[٤] په دے کښ زجردے منکرینوته چه انکارد آخرت نه سبب دے دَاعمالوقبیحو (مخالف دَ صفاتودَ اهل قرآن نه) اواعمال قبیحه سبب دے دَعمه یعنی پریشانی دَ ژوند دنیوی﴿زَيَّنَّا لَهُمْ﴾ نسبت دَ زینت الله تعالیٰ ته په اعتباردَ خلق سره دے دپاره دَ ابتلاء اوکله نسبت دَ دے شیطان ته کیدیشی په اعتباردَ وسوسے دَ هغه سره ﴿اَعْمَالَهُمْ﴾ نه مراد ناکاره عملونه اوبدعات دی۔

[٥] په دے کښ تخویف دے دنیوی اواخروی منکرینوته ﴿سُوْٓءُ الْعَذَابِ﴾ دَ دے وجے نه چه اعمال ئے سیئه دی او اخسرون دَ دے وجے نه چه هغه اعمالوسیئوته ښه کارونه وائی اوځان پکښ کړے وی۔

[٦] دا متعلق دے دَ اول ایت سره اوپه دیکښ تسلی او تشجیع ده رسول الله ﷺ ته په بیانولو دَ قرآن په تاکید سره ﴿لَتُلَقَّى﴾ کښ تاکید دے یعنی قرآن راځی تا ته دَ طرف دَ الله تعالیٰ نه اوته ئے قبلوے په مضبوطیا سره بل تاکید دا دے ﴿مِنْ لَّدُنْ﴾ دَ مینځ نه واسطه دَ جبرائیل ئے حذف کړله ځکه چه هغه رسول دے اوخبره دَ رسول خو کلام دَ مرسِل وی ﴿حَكِيْمٍ عَلِيْمٍ﴾ دانور تاکیدات دی اودا تمهید دے دَ راتلونکو واقعاتو دپاره چه په دغه واقعاتو کښ حکمتونه دی او دَ علمونو دَ الله تعالیٰ مظهر دے او دا په دے سورة کښ اول خطاب دے نبی ﷺ ته۔

[۷] دَ دے ایت نه دویم باب دے تر(٥٩) پورے په دے کښ واقعه دَ موسیٰ(علیه السلام) اوسلیمان(علیه السلام) کښ لوئے حکمت ته اشاره کوی چه دوی په غیبوباندے علم نه لرلواوواقعه دَ صالح(علیه السلام) او دَ لوط(علیه السلام) کښ لوئے حکمت ته اشاره ده چه دوی او دَ دوی تابعداران (اګرچه دا ټول بزرګان وؤ) په سلامتیا اوعافیت کښ الله تعالیٰ ته محتاج وؤ۔ دَ دے ایت:(۷) نه تر(١٤) پورے اوله قصه دَموسیٰ(علیه السلام) ذکرکوی اوپه هر ایت کښ حکمتونه دی اوهرکله چه سورة شعراء کښ ابتداء دَ دے قصے نه وه ذکرکړے نوپه دے ایاتونوکښ ابتداء دَقصے ذکرکوی۔ په دے(۷) ایت کښ بعضِ حکمتونه دا دی(۱)دَ موسیٰ(علیه السلام) اهل وعیال وو (۲) سفر

سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝٨ يٰمُوْسٰٓى اِنَّهٗٓ اَنَا اللّٰهُ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝٩ وَاَلْقِ عَصَاكَ ؕ فَلَمَّا رَاٰهَا تَهْتَزُّ
كَاَنَّهَا جَآنٌّ وَّلّٰى مُدْبِرًا وَّلَمْ يُعَقِّبْ ؕ يٰمُوْسٰى لَا تَخَفْ ۫ اِنِّىْ لَا يَخَافُ لَدَىَّ الْمُرْسَلُوْنَ ۝١٠ۖ اِلَّا

پاکی ده الله تعالی لره چه رب العلمین دے (۸) اے موسیٰ(علیه السلام) یقیناً څه الله یم زوراور اوحکمتونو والا (۹) او اوغورځوه همسا خپله پس هر کله چه اولیدله هغه خوځیدله زر زر ګویا که چمچمار دے او ګرځیدلو شاکوؤنکے او نه راګرځیدلو بیرته (اُوئیل مونږ) اے موسیٰ(علیه السلام)مه یریږه یقیناً نه ویریږی زما په خواکښ پیغمبران (۱۰) لیکن

دَ اهل سره جائزدے۔ (۳) غیب دان نه دے ځکه نورته ئے نار اُوئیل(٤)دَ اوروالونه استفاده کول په خبرډلارے (٥) دَ اورنه استفاده کول دَپاره دَ دفع دَیخنے﴿بِشِهَابٍ قَبَسٍ﴾شهاب رنړاته وئیلے کیږی اوقبس بل لیتکی ته وائی یعنی شغله دَبل لیتکی به راوړم۔

[۸] حکمتونه په دے کښ (۱) سفر دَ موسیٰ(علیه السلام) سبب شودَ حصول دَ برکاتواللهیو دپاره (۲) موسیٰ(علیه السلام) اوملائك په برکاتو کښ الله تعالی ته محتاج دی ځکه مجهول صیغه ئے ذکرکړیده لیکن فاعل معلوم دے دَ سورة فرقان نه (۳) اوندا اوکلام دَ الله تعالی دَمخلوق دَمشابهت نه منزه پاك دے ځکه ئے سبحان الله اُوئیل (٤) اوتنزیه (پاکوالے) دَ الله تعالی ذاتی اوفعلی دواړه دِه ځکه ئے الله اورب دواړه صفتونه ذکرکړل﴿اَنْ بُوْرِكَ﴾داسلام اوترحب دے دَ الله تعالی دَ طرف نه موسیٰ(علیه السلام) ته﴿مَنْ فِى النَّارِ﴾ هغه ځوك چه په ځائے دَ اورکښ دے یا په طلب دَ اورکښ دے اودا موسیٰ(علیه السلام) دے اومراد دَ نارنه نوردے لیکن په اعتبار دَګمان دَموسیٰ(علیه السلام) ئے ورته نار اُوئیل﴿وَمَنْ حَوْلَهَا﴾ مراد دَدے نه ملائك دی چه دَ الله تعالی په اذن سره دغه نورته راجمع کړے شوی دی۔

[۹] حکمتونه دا دی (۱) مرحبا اوسلام نه روستوتعارف کیږی (۲) اودَ سلام نه روستوکلام دے (۳) اَلْعَزِيْزُ کښ اشاره ده چه الله تعالی به موسیٰ(علیه السلام) لره غلبه اوعزت ورکوی (٤) اَلْحَكِيْمُ کښ اشاره ده چه په موسیٰ(علیه السلام) باندے ئے اول مصیبتونه قسم قسم راوستل اوآخرکښ کامیابی ورکول دا بنادی په حکمت دَ الله تعالی باندے (٥) اوپه دے کښ وحی دَ مسئلے دَ توحید ده چه اول فرض دے۔

[۱۰] په دے کښ حکمتونه (۱) دَ رسالت سره معجزه پکاردہ (۲) مناسبه معجزه وه دَ هغه وخت سره (۳) په غټ والی کښ ځبان اوپه زر زرخوځیدلوکښ دَجان (چمچمار) پشان، دوه صفتونه متضاد پکښ جمع وو دلیل دے په لوئے قدرت دَ الله تعالی باندے (٤) دَ ظاهراسبابونه ویره کول دَ رسالت سره منافی نه دی (٥) دلیل دے چه په غیبوباندے موسیٰ(علیه السلام) نه پوهیدلو (٦) دلیل دے چه معجزه دَ نبی په اختیارکښ نوی (۷) تسلی دَ الله تعالی دَ طرف نه (۸) په وخت دَ قرب دَ الله تعالی کښ دَ اسبابونه خوف نوی پکار (۹) اودا خاص دے په رسولانوپورے۔

مَنْ ظَلَمَ ثُمَّ بَدَّلَ حُسْنًۢا بَعْدَ سُوْٓءٍ فَاِنِّيْ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١١﴾ وَاَدْخِلْ يَدَكَ فِيْ جَيْبِكَ تَخْرُجْ بَيْضَآءَ
مِنْ غَيْرِ سُوْٓءٍ ۭ فِيْ تِسْعِ اٰيٰتٍ اِلٰى فِرْعَوْنَ وَقَوْمِهٖ ۭ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمًا فٰسِقِيْنَ ﴿١٢﴾ فَلَمَّا جَاۗءَتْهُمْ اٰيٰتُنَا
مُبْصِرَةً قَالُوْا هٰذَا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿١٣﴾ وَجَحَدُوْا بِهَا وَاسْتَيْقَنَتْهَآ اَنْفُسُهُمْ ظُلْمًا وَّعُلُوًّا ۭ فَانْظُرْ كَيْفَ
كَانَ عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِيْنَ ﴿١٤﴾ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا دَاوٗدَ وَسُلَيْمٰنَ عِلْمًا ۚ وَقَالَا الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ فَضَّلَنَا ع ١٤ ٢٦

هغه څوك چه نقصان ئے اوكړو بيائے اوكړه نيكى روستو دَ بدئے نه نو يقيناً ځه بخښنه كوؤنكے رحم كوؤنكے يم (١١) او ورننه باسه لاس خپل په ګريوان خپل كښ راوؤبه ځى سپين بے له عيب نه (اوليږل مونږ) په نهه معجزاتو كښ فرعون اوقوم دَ هغه ته يقيناً دوى وؤ قوم نافرمان (١٢) پس هركله چه راغله دوى ته معجزات زمونږ پوهه ورګوؤنكى دوى اُوئيل دا جادو ښكاره دے (١٣) او انكار اوكړو دوى دَ هغے نه اويقين كړے وؤ په هغے باندے زړونو دَ دوى دَ وجے دَ عناد او دَلوئيے نه پس اوګوره چه څنګه شو انجام دَ فساد كوؤنكو (١٤) او يقيناً وركړے وؤ مونږ داؤد(عليه السلام)او سليمان(عليه السلام) ته خاص علم او دوى وئيل ټوله ستائينه (دَ خدايئے) اللّٰه تعالىٰ لره ده چه غوروالے ئے راكړے دے مونږ ته

[١١] په دے ايت كښ استثناء منقطع ده حال دَ غير انبياؤ ذكر كوى يعنى چاچه ګناه اوكړه او بيائے توبه اوكړه نودهٔ باندے به هم خوف نه وى ځكه چه اللّٰه تعالىٰ ورته بخنه كوى ـ بل قول دادے چه دا استثناء متصل ده په تقدير دَ دے عبارت سره، والخوف على من سواهم الا من ظلم ، ويره شته په ماسيوا دَ رسولانو باندے مګر چه توبه اوباسى نوويره ترينه لرے شى يا داچه استثناء متصل ده بغير دَ تقدير دَ عبارت نه او ظلم نه مراد خلاف اولىٰ كاردے لكه قتل دَ قبطى دَ لاس دَموسىٰ(عليه السلام) نه۔

[١٢] په دے ايت كښ دويمه معجزه ذكر كړيده اوپه دے كښ حكمتونه دا دى (١) اوله معجزه كښ انقلاب دَ جماد وؤ حيوان ته هغه جماد چه مجمع دَفوائدو ووداسے حيوان ته بدله شوه چه مجمع دَشرورده۔ اودويمه معجزه انقلاب دَ اعراضو دے په اعضاؤ دَبدن دَموسىٰ(عليه السلام) كښ (٢)ګريوان دَقميص په سينه باندے پكاردے (٣) سرهٔ دَانقلاب دَحال نه خالى وودَهرنقصان نه (٤) نور ايات.ئے اجمالى ذكر كړل اوتفصيل ئے سورة اعراف كښ تيرشويدے(٥) تخصيص دَفرعون اوتعميم دَ قوم دَ هغهٔ دَپاره دَ رسالت دَ موسىٰ(عليه السلام) (٦) اوعلت دَكثرت معجزات اوتخصيص دَفرعونيانو ئے ذكر كړيدے په صفت دَفسق دَ هغوى سره۔

[١٣] په دے كښ تكذيب دَ فرعونيانوذكر كړيدے اشاره ده حكمت ته (١) چه دَ هرحق خبرے مخالفت اوانكار كړے شويدے (٢) اوپه رشتياؤ باندے دروغ فتوے لګولے كيدے شى۔

[١٤] حكمتونه دَ دے ايت دا دى (١) دَ فرعونيانو انكارعنادى دَحق نه (٢) په زړه كښ يقين په حقانيت دَ هغے (٣) دليل دے چه هركله په زړه كښ تصديق وى ليكن په ژبه باندے انكاروى نوداكفردے (٤) كله سبب دَكفرعناد اوتكبر وى سرهٔ دَ علم نه (٥) آخرى عاقبت دَمفسدينوهلاكت اوتباهى ده تردے پورے شپږ ديرش حكمتونه ذكرشول ځما دَعلم مطابق، دَ دے نه علاوه نورهم ډيرحكم په دے كښ شته۔ اوپه دے ټولو كښ لوئے حكمت دا دے چه موسىٰ(عليه السلام) سرهٔ دَ نبوت اودَمعجزاتونه په غيب باندے علم نه لرلو﴿فَانْظُرْ﴾ كښ خطاب نبى(ﷺ) ته دے اومراد په دے كښ تسلى دَ هغه اودَ امت ده په اهلاك دَ مفسدانو سره۔

عَلٰى كَثِيْرٍ مِّنْ عِبَادِهِ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿١٥﴾ وَ وَرِثَ سُلَيْمٰنُ دَاوٗدَ وَقَالَ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ عُلِّمْنَا مَنْطِقَ الطَّيْرِ وَاُوْتِيْنَا مِنْ كُلِّ شَيْءٍ ؕ اِنَّ هٰذَا لَهُوَ الْفَضْلُ الْمُبِيْنُ ﴿١٦﴾ وَحُشِرَ لِسُلَيْمٰنَ جُنُوْدُهٗ مِنَ

په ډیرو دَ بندګانو دَ هغه نه چه مؤمنان دی (١٥) اونائب شو سلیمان(علیه السلام) دَ داؤد(علیه السلام) نه او اُوئیل هغه اے خلقو خودلے شوی دی مونږ ته خبرے دَ مارغانو او راکړے شوے دے مونږته دَ هرڅه نه یقیناً دا خامخا فضل (دَ اللّٰه تعالیٰ) ښکاره دے (١٦) او راغونډے کړے شوے سلیمان(علیه السلام) ته لښکرے دَ هغه دَ

[١٥] دَ دے ایت نه دویمه قصه ده دَسلیمان(علیه السلام) تر(٤٤) پورے په دیکښ ډیرحکمتونه دینی اوسیاسی موجود دی اودا ټول حکمتونه په قدرت اوپه علم دَ اللّٰه تعالیٰ سره دی په دے کښ هم لوئے حکمت اظهاردَ دے خبرے دے چه سلیمان(علیه السلام) عالم الغیب نه وؤ اوشهادت دَ دوؤ کواهانو ئے په هغے باندے پیش کړے دے یونملة (میږئ) دویم هُد هُد ﴿عِلْمًا﴾ نکره ده بعضے خاص علمونه ترینه مراد دی چه هغه نبوت دے اودَمارغانوپه خبروباندے پوهیدل اوتسبیح دَ غرونو اوریدل اوتسخیرد شیاطینو دے دایه علماًکښ داخل دی۔ په دے ایت کښ حکمتونه دادی (١) په علم دَ انبیاؤعلیهم السلام کښ صفت فاضله دے (٢)عالم باندے لازم دی چه دَ نعمت دَ علم شکراداکوی (٣) اوعقیده دے ساتی اګرچه دے افضل دے دَ ډیروخلقونه لیکن دَ دهٔ نه هم بعضِ خلق افضل شته نوتکبرنه نکوی (٤) اوافضل علم هغه دے چه دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه نازل شوے وی (٥) اوانبیاء علیهم السلام په علم کښ اللّٰه تعالیٰ ته محتاج دی۔

[١٦] مراد دَ وراثت نه قائم کیدل په ځائے دَپلار په نبوت اوبادشاهئ کښ اودا دَ طرف دَ اللّٰه تعالیٰ نه دے ځکه نوراولاد ته ئے نه دے ورکړے شوے۔ حکمتونه دَدے ایت (١) علم میراث دَ پیغمبرانودے (٢) په انبیاؤعلیهم السلام اظهاردَ معجزاتوواجب دے ځکه اعلان ئے اوکړو یٰۤاَیُّهَا النَّاسُ (٣) معجزات دوه قسمه دی روحانی چه علم دَ منطق الطیردے اوظاهری چه عجیبه بادشاهی ده (٤) مارغان هم خبرے کوی اوپوهیدل په هغے باندے معجزه ده نوبغیرد علم وحی نه څوك دا دعویٰ نشی کولے چه فلانئے مرغئے فلانے خبرے کوی۔ نوکومو مفسرینوچه تفصیل دَ خبرو دَمارغانولیکلے دے هغه صحیح نه دے ځکه چه حدیث مرفوع صحیح سره ثابت نه دی (٥) نطق په انسان پورے خاص نه دے لکه چه منطقیانودعویٰ کړیده اودَ نطق نه قوت دَ ادراك اخستلے ډیره بعیده خبره ده (٦) معجزات په اختیاردَ انبیاؤ کښ نه دی ځکه علمنا اواوتینا مجهول صیغے ئے اُوئیلے اوفاعل ئے معلوم دے چه اللّٰه تعالیٰ دے (٧) بادشاهی دَ دنیا په طریقه دَ خرق عادت چه دَ دین دَ ترقیٔ دپاره استعمالیږی داهم فضل دَ اللّٰه تعالیٰ دے ﴿كُلِّ شَيْءٍ﴾ دَ دے نه مراد هغه څیزونه دی چه دَ بادشاهیٔ دَ قوت سره مناسب وی اودے ته استغراق عرفی وئیلے شی هرڅیز مراد نه دے ځکه ډیرڅیزونه (لکه مملکت سبا) خوهغه ته نوؤ ورکړے شوے۔ علمنا او اوتینا جمع صیغے ئے ځکه ذکرکړے چه سلیمان(علیه السلام)، سرهٔ دَ تابعدارانو نه مراد دے۔

الْجِنِّ وَالْاِنْسِ وَالطَّيْرِ فَهُمْ يُوْزَعُوْنَ ﴿١٧﴾ حَتّٰٓى اِذَآ اَتَوْا عَلٰى وَادِ النَّمْلِ ۙ قَالَتْ نَمْلَةٌ يّٰٓاَيُّهَا النَّمْلُ
ادْخُلُوْا مَسٰكِنَكُمْ ۚ لَا يَحْطِمَنَّكُمْ سُلَيْمٰنُ وَجُنُوْدُهٗ ۙ وَهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿١٨﴾ فَتَبَسَّمَ ضَاحِكًا مِّنْ قَوْلِهَا وَ
قَالَ رَبِّ اَوْزِعْنِيْٓ اَنْ اَشْكُرَ نِعْمَتَكَ الَّتِيْٓ اَنْعَمْتَ عَلَيَّ وَعَلٰى وَالِدَيَّ وَاَنْ اَعْمَلَ صَالِحًا تَرْضٰىهُ وَ

پیریانو او انسانانو او مارغانونه پس دوی حصے حصے کولے شول (۱۷) تردے پورے هرکله چه دوی راغلل په میدان دَ میروباندے اُوئیل میږی اے میږو ورننوځے کورونو خپلوته میده نه کړی تاسو لره (دَخپو دَلاندے) سلیمان او لښکرے دَهغه او دوی به نه پوهیږی (۱۸) پس مسکے شو سلیمان(علیه السلام) خندیدونکے دَ وجے دَ وینا دَ هغه نه او اُوئیل دهٔ اے ربه زما برخه (توفیق) راکړے ماته چه شکر اوکړم دَ نعمتونو ستا هغه چه تا احسان کړیدے په ما باندے او په مور پلار زما باندے اودا چه عمل اوکړم نیك چه ته ئے خوښوے او

[۱۷] داتصدیق دے دَماقبل خبرچه دَ علم دَ منطق الطیراودَ لوئے بادشاهئ نمونه دا ده۔ حکمتونه دا دی (۱) بادشاه لره فوجی نظام ضروری دے (۲) په وخت دَ ضرورت کښ ټول لښکر جمع کول پکار دی (۳) لښکر دَ هغهٔ درے قسمه مخلوق وؤ دا په طریقه دَ معجزے سره وؤ (٤) لښکرټول یوځائے کښ جمع کول دپاره دَ دے چه هیبت پریوځی په دشمن باندے (٥) لښکر په مختلفو ټکړو کښ تقسیم کول پکار دی په وخت دَ ضرورت کښ دپاره دَ تنظیم اودا ټول امورسیاسیه دی ﴿يُوْزَعُوْنَ﴾ رابندولے شول په یوځے کښ یا معنیٰ دا ده چه تقسیم کولے شول په انتظام سره۔

[۱۸] مخکښ ایت کښ بیان وؤ دَ اُوْتِيْنَا مِنْ كُلِّ شَيْءٍ، اوپه دے ایت کښ بیان دے دَعلمنا منطق الطیر، حَتّٰى نه مخکښ تقدیرد َعبارت دے (فساروا) روان شول تردے پورے ﴿وَادِالنَّمْلِ﴾ بقاعی په نظم الدررکښ وئیلی دی چه دا وادی په طائف کښ ده اومالیدلے ده اوبیضاوی وائی چه په شام کښ ده ﴿نَمْلَةٌ﴾ وئیلے شویدی چه دَ دے میږی دوه وزرے وے ځکه دَ دے خبرے په منطق الطیرکښ داخلے دی۔ مشهوره دا ده چه دا مؤنثه وه (ځکه اوس بعض ناپوهه دلیل نیسی په جواز دَ امارت دَ ښځوباندے اودا قول دَ امام ابوحنیفه نه په وړوکوالی دَ هغه کښ نقل کړے شوے دے لیکن طیبی، ابوحیان، زمخشری په هغے باندے رد کړے دے اوظاهراحتمال دا دے چه نروؤ اوتانیث لفظی سرهٔ دَ اسناد مؤنث نه دلیل دَتانیث حقیقی نه دے۔ حکمتونه دَ دے ایت دا دی (۱) میږواونورو حشراتوکښ اللّٰه تعالیٰ فهم اوشعوراچولے دے (۲) میږی هم ژوند په خاص تنظیم سره تیروی (۳) هرمشر له پکاردی چه خپل قوم ته دَ خطراتواومفاسدونه دَ بچ کیدلوتدبیر اوخائی لکه چه دے میږی خودلے وو(٤) اودَ چانه چه یوعمل په نا خبرے باندے کیږی نوهغه معذورګڼل پکار دی۔ لکه چه په لَا يَشْعُرُوْنَ کښ عذردَ سلیمان(علیه السلام) اودَ هغه لښکرته ئے اشاره اوکړه (٥) پیغمبران او اولیاء کله دَ خپودَ لاندے دَمیږی دَ حال نه هم علم نه لری ځکه چه علم دَغیبوهغوی لره نیشته۔

فائده ۱: ظاهردا ده چه سلیمان دا سفرپه هواکښ نه کوؤیا خوقریب سفر وؤیا هوا تردغه وخت پورے نه وه مسخرکړے شوے نودا اعتراض نشی کیدلے چه لَايَحْطِمَنَّكُمْ سُلَيْمَانُ ئے ولے اُوئیل هغه خوپه هواکښ مزل کوؤ۔

اَدْخِلْنِيْ بِرَحْمَتِكَ فِيْ عِبَادِكَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿١٩﴾ وَتَفَقَّدَ الطَّيْرَ فَقَالَ مَا لِيَ لَآ اَرَى الْهُدْهُدَ ۖ اَمْ كَانَ
مِنَ الْغَآئِبِيْنَ ﴿٢٠﴾ لَاُعَذِّبَنَّهٗ عَذَابًا شَدِيْدًا اَوْ لَاَاْذْبَحَنَّهٗٓ اَوْ لَيَاْتِيَنِّيْ بِسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ﴿٢١﴾ فَمَكَثَ غَيْرَ

داخل کړے مالره په وسیله دَ رحمت ستا په په بندګانو ستاکښ چه نیکان دی (۱۹) اولتون ئے کوؤ دَمارغا نو نو اُوئیل ئے څه وجه ده مالره چه نه وینم هد هد لره او که دے دَ پټیدونکو نه دے (۲۰) خامخا سزا به ورکړم دهٔ ته سزا سخته یا به حلال کړم دهٔ لره یا به راوړی ماته دلیل ښکاره (۲۱) نو حصار شو

فائده۲: دَنملة په کلام کښ لس وجوه دَ فصاحت اوبلاغت دی (اودا الفاظ دَ قرآن کلام اللّٰه دی) (۱)نِداء یا (۲)تنبیه ایها (۳)تسمیه النمل (٤)امر ادخلوا (٥) قصص مساکنکم (٦)تحذیر لایحطمنکم (۷) تخصیص سلیمان(۸)تعمیم جنوده(۹) اشاره وَهُم (۱۰)عذر لایشعرون۔

[۱۹] هرکله چه وینا دَنملے اللّٰه تعالیٰ سلیمان علیه السلام ته واوروله نوهغه نعمت دَ اللّٰه تعالیٰ ئے او ګنړلو او خوشحالی ئے ښکاره کړله اوشکرئے اداکړلو۔ حکمتونه دَ دے ایت دادی (۱) دَ خندا دوه قسمونه ئے ذکر کړی دی (۱) تبسم (۲) ضحك، اوقهقهه ئے نه ده ذکرکړے ځکه چه قهقهه دَ زړه دَ غفلت دَ وجے نه وی اوانبیاء علیهم السلام دَ زړه دَ غفلت نه پاك دی (۲) په نعمت باندے خوشحالی کول جائزدی (۳) دُعا دَ توفیق دَ شکرهم شکر دے (٤) اونعمت چه والدینوباندے نعمت دے نوپه اولاد باندے دَ هغے هم شکرکول ضروری دی (٥) انبیاء علیهم السلام هم مکلف دی په عمل صالح کولویعنی داسے عمل چه موافق وی دَ هغوی دَ وحی سره (٦) اوانبیاء علیهم السلام هم رحمت دَ اللّٰه تعالیٰ ته محتاج دی (۷) اورحمت دَ اللّٰه تعالیٰ بهتره وسیله دَ دُعا ده۔

فائده: دَتبسم نه روستوضَاحِکاً ئے ذکرکړے دے ځکه چه ضحك دلته په معنیٰ دَخوشحالئے سره دے معنی دامعلومیږی چه خوشحالی کوؤنکے وو یا مراد دا دے چه اول ئے تبسم اوکړلو نوبیائے صورت دَ ضحك اختیارکړو۔

[۲۰] هرکله چه منزل مقصود دَ دے سفرته اور سیدونودَ لښکردَخواصو اودَ عاموخبرګیری ئے شروع کړله۔ حکمتونه دَ آیت (۱) بادشاه اوامیر باندے لازم دی چه دَ خپل فوج اودَ متعلقینوحاضری دے معلوموی اودَ هغوی دَحال خبرګیری دِکوی (۲) سلیمان علیه السلام په غیبوباندے علم نه لرلو ځکه چه دَ هُد هُد دَ حال نه خبر نه وؤ اودَ هغه دَ نه لیدلودوه وجے ئے په ترتیب سره ذکرکړے۔ اوله وجه مَالِيَ یعنی ځما نظر کښ به څه نقصان وی چه هُد هُد راته نه ښکاره کیږی۔ دویمه وجه دے به غائب وی دَ دے وجے نه څه ئے نه وینم معلومه شوه چه دَ نه لیدلو وجه غائب والے دے دا صریح دلیل دے چه انبیاء علیهم السلام غائب څیز نشی لیدلے څو پورے چه اللّٰه تعالیٰ ورته نوی خودلے۔

[۲۱] حکمتونه دا دی (۱) سزا ورکول مجرم ته په سبب دَ غیرحاضرئ سره (۲) سزا ورکول په تفاوت سره په سبب دَ تفاوت دَ جرم سره یعنی که لګه غیرحاضری ئے اوکړله نوعذاب به ورکړی یعنی جیل ته به ئے واچوی اوکه ډیره موده غیر حاضری ئے اوکړه نوذبح به ئے کړی (۳) اوپه عذر صحیح سره دَ سزا معاف کول۔

بَعِيْدٍ فَقَالَ اَحَطْتُّ بِمَا لَمْ تُحِطْ بِهٖ وَجِئْتُكَ مِنْ سَبَاٍ بِنَبَاٍ يَّقِيْنٍ ﴿٢٢﴾ اِنِّيْ وَجَدْتُّ امْرَاَةً تَمْلِكُهُمْ وَ
اُوْتِيَتْ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ وَّلَهَا عَرْشٌ عَظِيْمٌ ﴿٢٣﴾ وَجَدْتُّهَا وَقَوْمَهَا يَسْجُدُوْنَ لِلشَّمْسِ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَزَيَّنَ لَهُمُ

لږ وخت (بیاراغے) پس اُوئیل ئے راکیر دے زما په علم کښ هغه چه تاپه علم کښ نه دے راکیر کړے هغے لره او راوړے دے ماتاته دَ سبا ښارنه خبر یقینی (۲۲) یقیناً ماموندلے ده یو زنانه چه بادشاهی کوی دَ دوی او ورکړے شوے دے هر هغه ضروری څیزونه دَ بادشاهئ او هغے لره دے تخت لوئے شان والا (قیمتی)(۲۳) او موندله ما هغه او دَهغے قوم چه سجدے ئے کولے نمر ته سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه او ډولی کړیدی دوی ته

[۲۲] یعنی هُد هُد لږوخت غیرحاضروو بیا زرحاضر شواوعذر ئے پیش کړواودَ سزانه بچ شو۔ حکمتونه دَ ایت (۱) بے ضرورته ډیروخت حصاریدل دَ خپلے ډیوټئ نه نه دی پکار(۲) کله ادنیٰ شخص ته دَ داسے خبرے علم وی چه اعلیٰ شخص سره هغه نه وی (۳) اودا ابتلاء وی دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه په لوے عالم باندے دَ دے دپاره چه تکبراونکړی په خپل علم باندے (٤) دا دلیل دے چه سلیمان علیه السلام لره علم غیب نه وؤپه شهادت دَ هُد هُد سره (٥) تفسیرسراج المنیرکښ وئیلی دی چه دا رد دے په شیعګانوباندے چه هغوی وائی چه امام دَ زمانے نه په علمونوکښ هیڅ علم پټ نه وی اودا سے عقیده ده دَ بریلیانودَ آخری نبی ﷺ په باره کښ اودَ عام جاهلانودَخپلوپیرانوپه باره کښ (٦) اول اجمالی خبراوبیا دَ هغے تفصیل کولوسره په خبره کښ وقعت او عظمت پیداکیږی دلته اوله جمله کښ (احطت بمالم تحط به) ابهام دے اوپه دویمه جمله وَجئتك من سبإ کښ تفصیل دے۔ ﴿سَبَإٍ﴾ ابن کثیر لیکلی دی چه دَ دوی ځائے ته مآرب وئیلے کیدواودَ صنعاء یمن نه درے میله لرے وؤ۔

[۲۳] دا بیان دَ هغه خبرے اوهُد هُد امورعجیبه شرعاً یاعادتاً ذکرکوی په طریقه دَ تعجب سره۔ اول تعجب کوی دَ ښځے دَبادشاهئ نه اوداعادتاً هم دَغیرت نه خلاف خبره ده اوشرعاً هم ناجائزده۔ دویم تعجب دے دَکثرت دَ اسبابودَ بادشاهئ نه چه په هغه زمانه کښ کوموا سبابوته ضرورت وؤهغه ټول ورسره وؤدا مراد دے دَکُلِّ شَيْءٍ نه۔ دریم تعجب دے دَ هغے دَ تخت نه ځکه داسے تخت سلیمان علیه السلام سره نوؤ ځکه چه انبیاء علیهم السلام اسراف نکوی۔ حکمت دادے چه اللّٰه تعالیٰ دالویه بادشاهی دَسلیمان علیه السلام دَ علم نه بهرساتلے وه دَ ډیرومصلحتونو دپاره اوښکاره دلیل دے چه پیغمبران علم بکلِّ شَيْءٍ نه لری۔ ﴿عَرْشٌ﴾ دَ دے عظمت مفسرینو په مختلف طریقوسره لیکلے دے اوخاص خبره دا ده چه دائے دَ نَمرۍعبادت دَپاره یو ذریعه جوړه کړے وه په دے کښ درے سوه شپیته طاقونه داسے جوړ کړی وؤچه هره ورځ به نمرپه جدا جدا طاق کښ ښکاره کیدلو اودوی به ورته سجدے کولے دَ دے وجے نه ورپسے وجدتها آه ئے بغیرَ حرف عطف نه ذکرکړے دے۔

الشَّيْطٰنُ اَعْمَالَهُمْ فَصَدَّهُمْ عَنِ السَّبِيْلِ فَهُمْ لَا يَهْتَدُوْنَ ﴿٢٤﴾ اَلَّا يَسْجُدُوْا لِلّٰهِ الَّذِيْ يُخْرِجُ الْخَبْءَ فِي
السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَيَعْلَمُ مَا تُخْفُوْنَ وَمَا تُعْلِنُوْنَ ﴿٢٥﴾ اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ ﴿٢٦﴾ قَالَ سَنَنْظُرُ
اَصَدَقْتَ اَمْ كُنْتَ مِنَ الْكٰذِبِيْنَ ﴿٢٧﴾ اِذْهَبْ بِّكِتٰبِيْ هٰذَا فَاَلْقِهْ اِلَيْهِمْ ثُمَّ تَوَلَّ عَنْهُمْ فَانْظُرْ مَا ذَا

شیطان عملونه دَ دوی نومنع کړیدی دوی لره دَ (حق) لارے نه پس دوی لار (دَحق) نه مومی (٢٤) چه سجده نه خاص کوی اللّٰه تعالیٰ لره هغه ذات دے چه را اوباسی پټ ځیزونه په اسمانونو کښ او زمکه کښ او پوهه دے په هغه ځیزونو چه تاسو ئے پټه وئے او هغه چه تاسو ئے ښکاره کوئے (٢٥) اللّٰه تعالیٰ نیشته حق دار دَ بندګئ سیوا دَ هغه نه مالك دَ عرش ډیر لوئے شان والا دے (٢٦) اُوئیل سلیمان(علیه السلام) خامخا مونږ ګورو ایا رشتیا وائے او که ته ئے دَ دروغژنو نه (٢٧) یوسه خط زما چه دا دے پس اوغورځوه هغوی ته بیا په ډډه شه دَ هغوی نه نو ګوره چه دوی څه

[٢٤] په دے کښ بله زیاته عجیبه خبره ذکر کوی چه هغه شرك دَ دے ښځے اودَ قوم دَ هغے دے په شرك بالکواکب سره شرك ډیر قبیح دے دَ دے وجے نه دائے جدا مستقل ذکر کړو او ځلور خبرے ئے جدا په ترتیب سره ذکر کړی دی اول نمرته سجدے کول بیا دا عمل بدنه کنټرل بلکه خائسته کنټرل په وسوسے دَ شیطان سره بیا دَ دے په سبب سره دَ توحید دَ علم او عمل نه منع کیدل بیا دَ هغے په سبب سره دَ هر قسم هدایت نه محروم پاتے کیدل ۔ حکمت دا دے (١) چه مشرك شرك کوی نوهغه ورته خائسته کار ښکاری (٢) او دَ هغے دَ وجے نه دَ حق دَ اوریدلو نه محروم وی۔

[٢٥] په دے کښ رد دے په مشرکانوباندے په ذکرکولودَ دلیل دَ توحید سره یعنی سجده اللّٰه تعالیٰ لره خاص کول پکار دی ځکه چه هغه عالم الغیب دے اوهغه متصرف دے په اسمانونواوزمکو کښ ﴿الَّذِيْ يُخْرِجُ الْخَبْءَ﴾ جمله دے دواړه صفتونودَ اللّٰه تعالیٰ باندے دلالت کوی۔ پټ ځیزونه دَآسمانونونمر، سپوږمے، ستوری، بارانونه او وریځے وغیره دی۔ اوپټ ځیزونه دَ زمکے، بوټی اونے، خزانے، کانونه اوچینے وغیره دی دَ دے بعضے ځیزونودَ ښکاره کولودپاره بعضے انسانانوته طریقے او الات ورکړی دی۔ حکمت دا دے چه توحید دَ اللّٰه تعالیٰ دَعقل په دلیلونوسره ثابت دے۔

فائده: ﴿اَلَّا يَسْجُدُوْا﴾په قرائت دَشد سره متعلق دے اَعْمَالَهُمْ پورے یا فَصَدَّهُمْ پورے اوکه متعلق شی په لَايَهْتَدُوْنَ پورے نولاَ به زیاتی وی۔

[٢٦] داتفریع ده ماقبل دلیل باندے په ذکر دَ توحید دَ الوهیت سره اوتوحید دَ ربوبیت (رب العرش العظیم) دلیل دے دَپاره دَ توحید دَ الوهیت۔ حکمتونه دا دی (١) توحید دوه قسمه دے توحید دَ الوهیت اوتوحید دَ ربوبیت (٢) اودویم دلیل دے دپاره دَ اول (٣) دَ ښځے تخت عظیم وؤلیکن تخت دَ اللّٰه تعالیٰ العظیم دے اومعرفه دلالت کوی په کمال عظمت باندے چه هغه په نکره کښ نیشته (٤) دَ هُدهُد دَبیان نه معلومه شوه چه حیوانات حشرات ټولوته فهم اوشعوردَ توحید ټول ورکړے شوے دے۔

[٢٧] دا هم دلیل دے چه سلیمان(علیه السلام) په غیبوباندے علم نه لرلوځکه حقیقت معلومولودپاره یوطریقه اختیارَوی۔ حکمتونه دا دی (١) خبردَ مخلوق (غیردَ انبیاؤاوملائکونه) احتمال دَصدق اودَکذب لری۔

يَرْجِعُوْنَ ﴿٢٨﴾ قَالَتْ يٰٓاَيُّهَا الْمَلَؤُا اِنِّيْٓ اُلْقِيَ اِلَيَّ كِتٰبٌ كَرِيْمٌ ﴿٢٩﴾ اِنَّهٗ مِنْ سُلَيْمٰنَ وَاِنَّهٗ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ
الرَّحِيْمِ ﴿٣٠﴾ اَلَّا تَعْلُوْا عَلَيَّ وَاْتُوْنِيْ مُسْلِمِيْنَ ﴿٣١﴾ قَالَتْ يٰٓاَيُّهَا الْمَلَؤُا اَفْتُوْنِيْ فِيْٓ اَمْرِيْ ۚ مَا كُنْتُ قَاطِعَةً اَمْرًا

جواب راکړځوی (۲۸) اُوئیل (بښځې) اے دربار والو مشرانو یقیناً راغورځولے شوے دے ماته خط عزت والا (۲۹) یقیناً دا دَ سلیمان(علیه السلام) دَ طرفه نه دے او یقیناً مدد غوختل په نوم دَ اللّٰه تعالیٰ سره دی چه عام مهربان او خاص رحمتونو والا دے (۳۰) (نو) لوئی اونکړئے زما په مقابله کښ او راشئ ماته تابعداری کوؤنکی (دَ اللّٰه تعالیٰ او دَرسول)(۳۱) اُوئیل هغے اے مشرانو دَ قوم صلاح راکړئے ماته په باره دَ کار (تدبیر) ځما کښ نه یم ځه فیصله کوؤنکے دَ یو کار

(۲) دَ خبرنه روستوتحقیق ضروری دے (۳) خبر دَیوتن چه معتمد وی قبول دے لیکن دَ زیادت اعتماد دپاره کوشش پکار دے ﴿اَلْكٰذِبِيْنَ﴾ کښ مبالغه ده یعنی که چرے دَ نبی په وړاندے دَ یوتن دروغ ثابت شول نودے به غټ کاذب وی۔

[۲۸] حکمتونه دَ ایت دا دی (۱) هرکله چه نبی یا داعی دَحق خبرشی دَ یومشرك اومفسد قوم نه نوهغوی ته فی الحال دعوت دَحق ضروری دے (۲) دعوت کله په لسان سره وی اوکله په قلم سره وی (۳) بادشاهانوته بالخصوص دعوت دَخطونو په ذریعه پکاردے لکه چه زمونږ پیغمبرهم دَ صلح حدیبیه نه روستومختلفوبادشاهانوته مهرشده خطونه اولیږل (٤) اودَ جواب انتظارضروری دے دَ جواب دَ راتلونه وړاندے هیڅ اقدام کول نه دی پکار۔

[۲۹] حکمتونه دا دی (۱) اراکینوشوریٰ ته دَ مهم خبراطلاع ورکول (۲) کرامت دَخط په هغے باندے مهرلګول دی لکه چه زمونږنبی ﷺ هم دَ دے مقصد دَپاره مهرپه ګوتے کښ جوړکړے وؤ(۳) اودَ محترم خط احترام کول پکاردی ﴿كَرِيْمٌ﴾ کرامت دَ دے خط په مهر سره هم وؤ اودَ مضمون په لحاظ سره اوپه کلمه دَ بسم اللّٰه سره هم وؤ۔

[۳۰،۳۱] دا تفصیل دَ خط دے په ذکردَ مرسِل اوذکردَ مضمون سره اومضمون مشتمل دے په درے غټوخبروباندے په طور دَ اختصارسره اول بسم اللّٰه چه مکمل دعوت دَ ټوحید دے مشمتل ده په توحید دَ الوهیت اوتوحید دَ اسماؤ صفاتواوتوحید دَ استعانت۔ دویم دعوت پس دَمنلودَ دے نه په ﴿اَلَّا تَعْلُوْا عَلَيَّ﴾ سره یعنی دَ دین ځما مخالفت مه کوئے په لوئیے اوتکبرسره دریم دعوت دَ انقیاد پوره اسلامی نظام ته په ﴿وَاْتُوْنِيْ مُسْلِمِيْنَ﴾ سره۔

فائده: صحیح دا ده چه اِنَّهٗ مِنْ سُلَيْمَانَ دَخط په آخرکښ یا په یوطرف باندے لیکلے وؤدَ بسم اللّٰه نه وړاندے نه وؤلیکن عادت دا دے چه مرسل الیه اول دَمرسِل نوم ګوری داسے خطیب شربینی په تفسیرسراج المنیرکښ لیکلی دی۔ حکمتونه دَ خط لیکلوآداب دی (۱) دَ مرسِل خپل نوم لیکل (۲) دَ خط ابتداء په بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ سره (۳) اوکلمه دَ تسمیئے پوره لیکل صرف بسم اللّٰه یا باسمه تعالیٰ یا په ابجدو کښ لیکل مناسب نه دی (٤) خپل مقصد په اختصار سره جامع مانع لیکل۔

حَتّٰى تَشْهَدُوْنِ ﴿٣٢﴾ قَالُوْا نَحْنُ اُولُوْا قُوَّةٍ وَّاُولُوْا بَاْسٍ شَدِيْدٍ ۙ وَّالْاَمْرُ اِلَيْكِ فَانْظُرِيْ مَاذَا تَاْمُرِيْنَ ﴿٣٣﴾
قَالَتْ اِنَّ الْمُلُوْكَ اِذَا دَخَلُوْا قَرْيَةً اَفْسَدُوْهَا وَجَعَلُوْٓا اَعِزَّةَ اَهْلِهَآ اَذِلَّةً ۚ وَكَذٰلِكَ يَفْعَلُوْنَ ﴿٣٤﴾
وَاِنِّيْ مُرْسِلَةٌ اِلَيْهِمْ بِهَدِيَّةٍ فَنٰظِرَةٌۢ بِمَ يَرْجِعُ الْمُرْسَلُوْنَ ﴿٣٥﴾ فَلَمَّا جَآءَ سُلَيْمٰنَ قَالَ اَتُمِدُّوْنَنِ

تردے پورے چه تاسو حاضرئے (٣٢) دوی اُوئیل مونږ طاقت والایو او خاوندان دَ جنګ سخت یو او اختیار تاته سپارلے شوے دے نو اوګورہ چه ته څه حکم کوے (٣٣) دے اُوئیل یقیناً بادشاهان هر کله چه ورننوځی (په جنګ سره) یوکلی ته نوورانه وی هغه کلے او ګرځوی عزت مند اوسیدونکی دَ هغے ذلیلان او دغسے دوی کوی (٣٤)او یقیناً څه لیږونکے یم هغه ته څه هدیه (ډالیٔ) پس ګورم چه په څه جواب سره واپس کیږی لیږلے شوی (٣٥) پس هر کله چه راغله ډالیٔ سلیمان(علیه السلام) ته اُوئیل هغه ایا امداد کوئے ماسره

[٣٢] هرکله چه شوریٰ والا هیڅ خبره اونکړه نو دے ورته اُوئیل اَفْتُوْنِیْ مشوره دَ هغوی ته ئے فتویٰ اُوئیل دَ وجے دَ جلدئے کولونه په فیصله کښ اوفتویٰ هغه مضبوط جواب ته وئیلے کیږی چه په یوحادثه کښ ضروری وی۔ اَمریٰ مراد دَ دے نه جواب ورکول دَخط دی﴿مَا كُنْتُ قَاطِعَةً﴾ په دے جمله کښ دَهغوی تعظیم دے اوترغیب ورکول دی صحیح جواب ورکولوته او دا دلالت کوی چه دا بنځه په امور سیاسیو کښ پوره هوښیاره وه۔ حکمتونه دَ دے ایت(١) بادشاه لره اهل شوریٰ ضروری دی (٢) اهل شوریٰ له پکار دی چه صحیح مشوره ورکوی (٣) اوهرکله چه دوی اتفاق اوکړی په یوخبره باندے نوهغه دے په طریقه دَ فتوے جاری کولے شی۔

[٣٣] شوریٰ والابغیرَ تحقیق نه مشوره ورکړه په جنګ کولوسره ۔په خپل قوت دَمال اودَ فوج اوپه هنرَ جنګ باندے غرور ئے اوکړو او حالات او قوت دَ دشمن ئے نه وؤ معلوم کړے او دا دَ دوی بے وقوفی ده، حکمتونه دا دی (١) مشوره پس دَ تحقیق نه ورکول پکار دی (٢) دَ خپل قوت په مقابله کښ دَ بل طرف قوت ته هم نظرپکاردے (٣) پس دَ مشورے ورکولونه اختیارَ امیرے اوهغه پابند دَ شوریٰ نه دے۔

[٣٤] دا تردید دے دَښځے په مشوره دَ اهل شوریٰ باندے اوتوجه ئے ورکړه هغوی له سوچ کولوته چه هرکله یوبادشاه ستاسوپه ملك باندے حمله کول غواړی معلومیږی چه دَ هغه به ډیرقوت وی نو دَدے ملك به څنګه عاقبت وی؟ معلومه شوه چه بنځه دَ دے قوم نه په سیاسی نظرکښ قابله وه دارنګ ابن کثیر دَ حسن بصری رحمه الله نه روایت راوړے دے۔ حکمتونه دا دی (١) امیرلره په مشوره باندے عمل کول ضروری نه دی (٢) اومشوره په نرمه اومدلل طریقے سره ردکول پکاردی (٣) بادشاهان دے په جنګی اموروباندے ډیرسوچ اوفکرکوی (٤) دَ جنګ مسلط کولودوه آثار دی۔ اول خرابی اوفساد دَ وطن دویم عزتمند خلق ذلیل کیدل۔

[٣٥] دا دَ دغه بنځے سیاسی بصیرت دے حاصل ئے دا دے چه دا خط رالیږونکے طلب ګاردَ دنیا دے اوکه دنیا پرست نه دے بلکه په خپله دعویٰ کښ مضبوط دے۔ اودَ دے معلومول په ذریعه دَ مال سره کیږی څکه چه مال لویه فتنه ده که دے سړی هدیه اومال قبول کړو اوخپل مقصد ئے پریخودلونودَ دهٔ نه به په دے

بِمَالٍ فَمَآ اٰتٰىنِۦَ اللّٰهُ خَيْرٌ مِّمَّآ اٰتٰىكُمْ ۚ بَلْ اَنْتُمْ بِهَدِيَّتِكُمْ تَفْرَحُوْنَ ﴿٣٦﴾ اِرْجِعْ اِلَيْهِمْ فَلَنَاْتِيَنَّهُمْ
بِجُنُوْدٍ لَّا قِبَلَ لَهُمْ بِهَا وَلَنُخْرِجَنَّهُمْ مِّنْهَآ اَذِلَّةً وَّهُمْ صٰغِرُوْنَ ﴿٣٧﴾ قَالَ يٰٓاَيُّهَا الْمَلَؤُا اَيُّكُمْ
يَاْتِيْنِيْ بِعَرْشِهَا قَبْلَ اَنْ يَّاْتُوْنِيْ مُسْلِمِيْنَ ﴿٣٨﴾ قَالَ عِفْرِيْتٌ مِّنَ الْجِنِّ اَنَا اٰتِيْكَ بِهٖ قَبْلَ اَنْ تَقُوْمَ

په مال پس هغه چه راکړيدے ماته الله تعالیٰ غوره دے دَ هغے نه چه تاسوته ئے درکړے دے بلکه تاسو پخپله ډالئ باندے لوئی کوؤنکی ئے (٣٦) واپس لاړشه دوی ته پس خامخا رابه ولو دوی ته لښکرے چه نه به وی طاقت دوی لره دَ مقابلے دَ هغے او خامخا اوباسو به دوی لره دَ دوی دَ هغه کلونه کمزوری او دوی به سپك وی (٣٧) اُوئیل سلیمان(علیه السلام) اے مشورے والو کوم یو ستاسو نه به راوړی ماته تخت دَ هغے مخکښ دَ دے نه چه راشی دوی ماته تابعداری کوؤنکی (٣٨) اُوئیل یوطاقتور دَ پیریانو نه ځه به راوړم تاته هغه تخت مخکښ دَ پاسیدلوستا

مال ورکولوسره په اسانه طریقه باندے خلاص شواوکه هدیه ئے قبول نه کړه نودَ داسے شخص سره جنګ کول ګران دی اوس زمانه کښ هم اکثرجماعتونه په ملك کښ دَ شریعت دَنافذکولوشورکوی نودنیوی بادشاهان هغوی له مال یاځه اقتدار ورکړی نوهغوی خپل احتجاج پریګدی نومعلومه شوه چه دَ دوی مقصد دین نه دے بلکه دنیا ده۔

فائده: هره زمانه کښ رشوت له نوم بدل کړی هدیه اوډالئ نوم ورله کیدی لیکن په نوم بدلولوسره حرام څیز حلال نه ګرځی لکه دے ښځے هم رشوت له نوم دَ هدئیے کیخودلو۔

[٣٦] سلیمان علیه السلام هم پوهه شوچه دا ما دَ رشوت په ذریعه دَمقصد نه اړوی نوځکه هغه هدیه ئے ردکړله ﴿اَتُمِدُّوْنَنِ بِمَالٍ﴾یعنی تاسوځما دنیوی مال زیاتی کول غواړئے اوحال دا چه ځما مقصد دین دے۔ ﴿فَمَآ اٰتٰىنِۦَ اللّٰهُ﴾ نبوت اوبادشاهی په جن اوطیورو باندے دَ نورو بادشاهونه غوره ده۔ حکمتونه دَ دے ایت (١) انبیاء علیهم السلام فرق کوی په مینځ دَ هدیه اودَ رشوت کښ دَ وجے دَفراست نه هدیه (چه واقعی هدیه وی) نوانبیاء علیهم السلام ئے قبلوی (٢) دَ دنیا په حصه باندے قناعت پکار دے (٣) په دنیا باندے فرح اوخوشحالی کول دَ جاهلانوکار دے ﴿فَلَمَّا جَآءَ﴾کښ ضمیرجنس رسول ته راجع دے اګر چه هغه ډیرکسان وؤپه قرینه دَ المرسلون سره۔

[٣٧] دا تخویف دے هغوی ته دَ جنګ کولوپه دے شرط چه هغوی انقیاد قبول نه کړی اوهدیه اورسولان دَهغے ئے واپس کړل۔ نو ایت کښ تقدیردے یعنی، اِنْ لَّمْ يَاْتُوْا مُسْلِمِيْنَ فَلَنَاْتِيَنَّهُمْ بِجُنُوْدٍ، یعنی که دوی انقیاد اونکړی نوبیا به ورسره اوکړم۔ حکمت دا دے (١) دَ دعوت حق دَ ردکولونه روستو اعلان جنګ ضروری دے (٢) اودَ قتل نه باقی دشمنان دَ ملك نه ویستل پکاردی ﴿اَذِلَّةً﴾ بے ماله بے عزته ﴿صَاغِرُوْنَ﴾ مغلوب به کړیشی۔

[٣٨] هرکله چه سلیمان علیه السلام خبرکړے شو چه هغوی دَ انقیاد په طورسره را روان شول نو دغه وخت سلیمان علیه السلام خپل ارکان شوریٰ ته اُوئیل دَ هغے دَ تخت دَ راوړلوپه باره کښ اومقصد دَ دے راوړلو دا دے چه سلیمان علیه السلام هغه ښځے ته اودَ هغے قوم ته معجزه اوښائی دپاره دَ اثبات دَ نبوت خپل اودَپاره دَ اظهاردَ قدرت

مِنْ مَّقَامِكَ ۚ وَاِنِّيْ عَلَيْهِ لَقَوِيٌّ اَمِيْنٌ ﴿٣٩﴾ قَالَ الَّذِيْ عِنْدَهٗ عِلْمٌ مِّنَ الْكِتٰبِ اَنَا اٰتِيْكَ بِهٖ قَبْلَ
اَنْ يَّرْتَدَّ اِلَيْكَ طَرْفُكَ ؕ فَلَمَّا رَاٰهُ مُسْتَقِرًّا عِنْدَهٗ قَالَ هٰذَا مِنْ فَضْلِ رَبِّيْ ۖ لِيَبْلُوَنِيْٓ ءَاَشْكُرُ اَمْ
اَكْفُرُ ؕ وَمَنْ شَكَرَ فَاِنَّمَا يَشْكُرُ لِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ كَفَرَ فَاِنَّ رَبِّيْ غَنِيٌّ كَرِيْمٌ ﴿٤٠﴾ قَالَ نَكِّرُوْا لَهَا عَرْشَهَا نَنْظُرْ

دَ خپل ځائے نه او څه په دے باندے قوت لرم امانت دار یم (۳۹) اُوئیل هغه چاچه دَ هغه سره پوهه وه دَ کتاب څه به راوړم تاته هغه مخکښ دَ دے نه چه واپس شی تاته نظر ستا پس هرکله چه اولیدو سلیمان تخت لره ولاړ دَ هغه په خواکښ اُوئیل دهٔ دا دَ وجے دَ فضل دَ رب زما نه دے دپاره دَ دے چه په ما باندے ازمیښت اوکړی ایا شکر کوؤم اوکه ناشکری کوؤم اوچاچه شکر اوکړو پس یقیناً دے شکر کوی دپاره دَ فائدے خپلے او چاچه ناشکری اوکړه پس یقیناً رب زما بے حاجته عزت والادے (٤٠) اُوئیل سلیمان(علیه السلام) نا آشنا کړئ دے(بلقیس) لره تخت دَ دے ګورو مونږ

عظیمه دَ اللّٰه تعالیٰ دلیل په توحید باندے۔کوم چه مفسرینولیکلی دی چه مقصد ئے قبضه کول وؤ فقط نودا دَ نبی دَ شان سره نه بنائیګی ځکه هغه هدیه دَ هغوی واپس کړله نو تخت ته ئے څه حاجت دے دا اسرائیلی روایات دی خاص دَ سلیمان علیه السلام دَ بدنامولودپاره۔

حکمتونه دا دی: (۱) چه اسلامی مشاورت دپاره مجلس شوریٰ ضروری ده (۲) اوشوریٰ والا باندے هم بعضِ کارونه دَ حکومت اچولے شی (۳) په نبی باندے اظهارد معجزے ضروری وی اوسلیمان علیه السلام چه څه کوی نودَ اللّٰه تعالیٰ په اذن سره ئے کوی۔

[۳۹] معلومه شوه چه دَ هغه اهل شوریٰ جنات هم وؤ اوهغوی تابع وؤدَ حکم دَ سلیمان علیه السلام۔

حکمتونه دا دی: (۱) جناتو کښ ډیرقوت والاشته چه درانهٔ ځیزونه پورته کولے شی (۲) جناتولره دا طاقت هم ورکړے شوے دے چه په لږ وخت کښ ډیر مسافت قطع کولے شی چه انسان ئے نشی کولے (۳) دَ هرکارکولودپاره دوه صفتونه پکاردی قوت او امانت (٤) دَ خپل قوت اظهارپه وخت دَ ضرورت کښ جائزدے ﴿عِفْرِيْتٌ﴾ په معنیٰ دَ ډیرقوت والادے سرکش نه دے مراد ځکه چه هغه ځان ته امین وئیلے دے اوسلیمان علیه السلام دَ هغه په صفت باندے تردید نه دے کړے ﴿مَقَامِكَ﴾ مراد ترینه مجلس دَ قضا دَ سلیمان علیه السلام دے چه هغه تروخت دَ غرمے پورے وؤ۔

[٤٠] سلیمان علیه السلام اوفرمائیل چه داتخت زررا رسول ضروری دی نو اُوئیل عالم دَکتاب څه به ئے دَ رب دَ سترګونه رواندے را اورسؤم ﴿الَّذِيْ عِنْدَهٗ عِلْمٌ مِّنَ الْكِتٰبِ﴾ کښ درے اقوال دی اول قول، دا آصف بن برخیا وؤ وزیردَ سلیمان علیه السلام وؤ ولی اللّٰه وؤ۔ لیکن دا قول ضعیف دے دَیوځووجونه اول دا چه کرامت دَ ولی په اختیارکښ نه وی نوهغه څرنګ ځان ته نسبت اوکړو دَ راوړلودَ تخت۔ دویم داچه دَ نبی په داسے کارونوکښ ولی ته ضرورت نه وی ځکه چه صفت دَ نبوت دَ ولایت نه غالب اوقوی دے۔ دریم دا چه الذی عنده علم من الکتاب دا صفت په سلیمان علیه السلام کښ اقویٰ وؤ په نسبت دَ آصف باندے نو معهود په دے سره غیر قوی شخص څرنګ کیدیشی ۔ دویم قول دا دے چه دا جبرائیل علیه السلام وؤ هغه حاضر وو دَ سلیمان علیه السلام سره او هغه لره اللّٰه تعالیٰ دَ دے نه زیات قوت هم ورکړے دے او دَ علم دَ کتاب نه مراد دا چه دَ

اَتَهْتَدِيْٓ اَمْ تَكُوْنُ مِنَ الَّذِيْنَ لَا يَهْتَدُوْنَ ﴿٤١﴾ فَلَمَّا جَآءَتْ قِيْلَ اَهٰكَذَا عَرْشُكِ ؕ قَالَتْ كَاَنَّهٗ هُوَ ۚ وَ
اُوْتِيْنَا الْعِلْمَ مِنْ قَبْلِهَا وَكُنَّا مُسْلِمِيْنَ ﴿٤٢﴾ وَصَدَّهَا مَا كَانَتْ تَّعْبُدُ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ اِنَّهَا كَانَتْ مِنْ
قَوْمٍ كٰفِرِيْنَ ﴿٤٣﴾ قِيْلَ لَهَا ادْخُلِي الصَّرْحَ ۚ فَلَمَّا رَاَتْهُ حَسِبَتْهُ لُجَّةً وَّكَشَفَتْ عَنْ سَاقَيْهَا ؕ قَالَ اِنَّهٗ

ایا هدایت موندلے شی او که دهٔ دَ هغه کسانونه چه هیڅ هدایت نه مومی (٤١) پس هر کله چه دا راغله اُوئیلے شو ایا د اسے دے تخت ستا اُوئیل هغے ګویا که داڅو هغه دے او راکړے شویدے مونږ ته علم (ستا دَ نبوت) مخکښ دَ دے نخښے نه اوشو مونږ تابعدار(٤٢) او منع کړے ده دے لره (دَ توحید نه) بندګئ دَ هغه چاچه دے ورله بندګی کوله سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه یقیناً دا وه دَ قوم کافرانو نه (٤٣) اُوئیلے شو دے ته ورننوځه بنګلے ته پس هر کله چه دے اولیدله ګمان ئے اوکړو په هغے باندے دَغُلئ دَ اوبو او اوچته ئے کړه جامه دَ پنډو خپلو نه اُوئیل هغه یقیناً دا

وحی الٰهی په نازلولو باندے دے مقرر دے۔ اوهغه مستلزم دے علم دَ هغه لره۔ دریم قول دا سلیمان علیه السلام وو او خطاب ئے عِفریت ته اوکړلو او داسے خطاب په وخت دَ محاوره کښ کیدے شی اودا معجزه ده دَ سلیمان علیه السلام اونسبت دَ معجزے نبی ته کله کله مجازًا کیدے شی لکه په واقعه دَ عیسیٰ علیه السلام کښ۔ وأنبئکم بماتاکلون وما تدخرون فی بیوتکم العمران (٤٩) اودارنګ سورة یوسف (٣٧) کښ اوظاهردلیل دَ ترجیح دَ دے قول دا دے چه سلیمان علیه السلام روستو اُوئیل ﴿هٰذَا مِنْ فَضْلِ رَبِّيْ لِيَبْلُوَنِيْٓ﴾ داسے کلمات هغه وخت لوستلے کیدیشی چه دَ یوانسان نه لوئے کار صادرشی۔ حکمتونه دَ دے ایت (١) علم دَکتاب الٰهی لوے قوت دے (٢) هرکله چه یونعمت حاصل شی (اګرچه په ظاهرکښ په قدرت دَ انسان سره وی) خودَ هغے نسبت دَ اللّٰه تعالیٰ فضل ته کول پکاردی اوداشکر دَ نعمت دے (٣) هرنعمت الٰهیه په انسان باندے ابتلاء ده (٤) هرنعمت باندے یودَ دوؤ نتیجونه تفریع وی یا شکریا ناشکری (٥) اودَهرے نتیجے فائده یا نقصان انسان ته حاصلیږی۔

[٤١] دا عمل دَ دے دَپاره دے چه استعداد دَ بلقیس معلوم شی چه ایا دا دَ دے معجزے (دَ راوړلودَ تخت) نه هدایت فائده اخستلے شی یا نشی اخستلے محکه هر مبلغ اوداعی لره دَ خلقواستعداد معلومول پکار دی اودا په ایت کښ یوحکمت دے۔ اودَ دے ایت په ذیل کښ اسرائیلی روایات لیکلے شوی دی چه سلیمان علیه السلام دَ هغے عقل دَ دے دپاره معلومولوچه نکاح ورسره اوکړی دا غیرمناسب دی۔

[٤٢] په دے ایت کښ حکمتونه دا دی (١) دَ سوال ابتلائی په الفاظوکښ اخفاء دَ مقصد لکه چه اوفرمائیل اَهٰكَذَا، اَهٰذَا ئے نه دے وئیلے (٢) په جواب کښ هم حکمت اوهم ترتیب دے اول کلمه دَ شك اوبیایقین۔ کَأنَّ دپاره دَشك دے هُوَدپاره دَیقین دے (٣) روستودَ دلیل لیدلونه انقیاد اواستسلام ښکاره کول۔ ﴿وَاُوْتِيْنَا﴾ ظاهردا ده چه دا قول دَبلقیس دے مطلب داچه دَدے تخت دَ راوړونه هم ستا نبوت معلوم شولیکن دَ دے نه ورانده دَ خط دَ مضمون نه اوبیا دَ هدیے دَ واپس کولونه معلومه شوے ده چه سلیمان علیه السلام نبی دے ﴿وَكُنَّا مُسْلِمِيْنَ﴾ یعنی مونږ په اراده دَ انقیاد اوتابعدارئ سره راروان شوی یو۔

[٤٣] په دے ایت کښ دفع دَ وهم کوی چه هرکله داعاقله اوهوښیاره وه نودَ څه وجے نه په شرك کښ مبتلاوه؟ جواب دے په ذکرکولودَ دوه اسبابوسره۔ اول سبب، دَ شرك عقیدے اواعمالو(په سبب دَ

صَرْحٌ مُّمَرَّدٌ مِّنْ قَوَارِيْرَ ؕ قَالَتْ رَبِّ اِنِّيْ ظَلَمْتُ نَفْسِيْ وَاَسْلَمْتُ مَعَ سُلَيْمٰنَ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٤٤﴾
وَلَقَدْ اَرْسَلْنَاۤ اِلٰى ثَمُوْدَ اَخَاهُمْ صٰلِحًا اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ فَاِذَا هُمْ فَرِيْقٰنِ يَخْتَصِمُوْنَ ﴿٤٥﴾ قَالَ

بنګله جوړه کړے شویده د شیشونه اُوئیل هغے اے ربه زما یقیناً ما ظلم کړیدے په ځان خپل باندے او اخلاص کوم د بندګئ په تابعداریٔ د سلیمان(علیه السلام) کښ اللّٰه تعالیٰ لره چه رب العلمین دے (٤٤) او یقیناً لیږلے دے مونږ ثمودیانو ته رور د هغوی صالح(علیه السلام) چه بندګی کوئے خاص د اللّٰه تعالیٰ نو دغه وخت دوی دوه ډلے شوے جګړه ئے کوله (٤٥) اُوئیل صالح(علیه السلام)

جهل) د توحید نه غفلت پیداکړے وؤځکه د انسان طبیعت دا دے چه په یونظر یه اومسلك کښ مشغول وی نود هغے نه علاوه تحقیق نه کوی۔ دویم سبب، قوم دَدے ټول کافراومشرك وؤ یعنی په ماحول د دے کښ توحید اود حق هیڅ آواز نه وؤ۔ د دے نه ځوحکمتونه معلوم شول (١) یو مذهب اومسلك انسان لره د نورومذهبونونه غافل کوی (٢) ماحول لره د انسان په عقیده اوعمل باندے اثروی د دے وجے نه د غلط مجلس اوناکاره ملګرونه ځان ساتل ضروری دی۔

[٤٤] داحکم دے ښځے ته د دوؤوجونه۔ اوله وجه چه دازنانه ده اوپه زنانه باندے لازم دی چه کورکښ دننه اوسي۔ دویمه وجه دا ده چه سلیمان(علیه السلام) دیته خودله چه ځما ستاهدئے ته هیڅ حاجت نیشته بلکه مالره اللّٰه تعالیٰ هغه نعمتونه راکړی دی چه تاله ئے ندی ذرکړی هرکله چه هغے حکم اومنلوداخله شوه نوهغه محل د شیشونه یا د چمك کوؤنکے ګټے نه جوړ کړے شوے وؤاودے ښځے داچرے نوؤ لیدلے نوګمان ئے اوکړو چه دا د اوبوغولے دے نود دے وجے نه ئے جامه د پنډونه اوچته کړه نو سلیمان(علیه السلام) دَنظر کولونه زرسترګے بل طرف ته واړولے اوهغه ئے په حقیقت پوهه کړله۔

فائده١: دا قول چه پیریانو سلیمان(علیه السلام) ته وئیلی وؤچه دَدے زنانه په پنډوباندے ویخته دی د دے سره نکاح مکوه نوهغه دا محل دَدے دَپاره جوړ کړوچه د هغے پنډوته نظراوکړی دا صحیح نده ځکه چه انبیاء علیهم السلام د پردو زنانه پنډوته نظرنه کوی اودارنګ دا اسرائیلی روایات دی یهودیانود سلیمان(علیه السلام) د بدنامولودَپاره داقصے جوړے کړی دی هرکله چه د بلقیس په معجزه اوصدق د سلیمان(علیه السلام) یقین راغے نود شرك نه ئے توبه اوکړه اود سلیمان(علیه السلام) تابع شوه۔

فائده٢: د بلقیس سره د سلیمان(علیه السلام) نکاح کول په صحیح دلیل سره ثابت نه دی اودارنګ بادشاهئ ته واپس لیږل اوپس د اسلام نه د هغے بادشاهی کول په هیڅ صحیح دلیل سره ثابت نه دی بلکه د قرآن د دے لفظ (چه ادخلی الصرح) نه روستود هغے د خروج دَپاره صریح نص نیشته۔ حکمتونه دا دی (١) عالیشان مکانات جوړول د ضرورت مطابق جائزدی (٢) کله د انسان نظرخطاکیږی اګرچه هوښیاروی (٣) روستود دلائلود حق نه باطل پریخودل ضروری دی (٤) د توحید کمال بغیرد تابعداریٔ د رسول نه نشی کیدے۔

[٤٥] دا دریمه قصه ده داهم په ډیروحکمتونو باندے مشتمل ده اولوے حکمت پکښ دا دے چه انبیاء او اولیاء په سلامتیا کښ اللّٰه تعالیٰ ته محتاج دی نو دوی بل چاله نجات او سلامتیا نشی ورکولے او دا رد د شرك فی التصرف دے ۔ حکمتونه د دے ایت دا دی (١) هرنبی په توحید باندے رالیږلے شویدے (٢) د

يٰقَوْمِ لِمَ تَسْتَعْجِلُوْنَ بِالسَّيِّئَةِ قَبْلَ الْحَسَنَةِ ۚ لَوْلَا تَسْتَغْفِرُوْنَ اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴿٤٦﴾
قَالُوا اطَّيَّرْنَا بِكَ وَبِمَنْ مَّعَكَ ؕ قَالَ طٰٓئِرُكُمْ عِنْدَ اللّٰهِ بَلْ اَنْتُمْ قَوْمٌ تُفْتَنُوْنَ ﴿٤٧﴾ وَكَانَ فِي
الْمَدِيْنَةِ تِسْعَةُ رَهْطٍ يُّفْسِدُوْنَ فِي الْاَرْضِ وَلَا يُصْلِحُوْنَ ﴿٤٨﴾ قَالُوْا تَقَاسَمُوْا بِاللّٰهِ لَنُبَيِّتَنَّهٗ
وَاَهْلَهٗ ثُمَّ لَنَقُوْلَنَّ لِوَلِيِّهٖ مَا شَهِدْنَا مَهْلِكَ اَهْلِهٖ وَاِنَّا لَصٰدِقُوْنَ ﴿٤٩﴾ وَمَكَرُوْا مَكْرًا وَّمَكَرْنَا

اے قومه زما ولے په تادئے غوارئے عذاب مخکښ دَ ایمان راوړلو نه ولے نه غوارئے بخښنه دَ اللّٰه تعالیٰ نه دَ دے دپاره چه په تاسو باندے رحم اوکړیشی (٤٦) دوی اُوئیل سپیره حالت راغے په مونږ باندے ستا په وجه اوپه وجه دَ هغه چاچه ستا ملګری دی اُوئیل هغه سپیره حال ستاسو دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه دے بلکه تاسو قوم ئے چه امتحان در باندے کیدیشی (٤٧) او وؤ په ښارکښ نهه کسان وراني ئے کوؤ په ملك کښ اونه وؤ اصلاح کوؤنکی (٤٨) دوی اُوئیل قسمونه اوکړئے په اللّٰه تعالیٰ باندے خامخا دَ شپے به حمله اوکړو په دهٔ باندے اوپه کورواالادَ دهٔ باندے بیابه خامخا اُوایو مونږ وارث دَ دهٔ ته چه مونږ نه یو حاضر شوی قتل کولو دَ کورنئے دَ دهٔ ته او یقیناً مونږ رښتیا وایو (٤٩) او چلونه جوړ کړل دوی چلونه اوتدبیر اوکړو مونږ

حق مسئلے په بیان سره ضروراختلاف پیداکیږی (٣) نسبت دَ دے تفرق اواختلاف داعی دَ حق ته نشی کیدے۔ ﴿يَخْتَصِمُوْنَ﴾ دَ دوی اختصام په سورة اعراف (٧٥،٧٦) کښ ذکرشویدے۔

[٤٦] یعنی دوی طلب دَ عذاب کوؤ لکه اعراف (٧٧) کښ دارنګ دوی شرك کوؤچه هغه سبب دَعذاب دے اودَ توحید باره کښ ئے هیڅ سوچ نه کوؤدَ دے وجے نه هغه ورته دَ زجرپه طورسره اُوئیل ﴿لِمَ تَسْتَعْجِلُوْنَ بِالسَّيِّئَةِ قَبْلَ الْحَسَنَةِ﴾بیا ترغیب دَ استغفارئے ورکړو چه هغه سبب دَ رحمت دے۔ حکمتونه دا دی (١) دَ عذاب دَ اسبابونه ځان بچ کول ضروری دی (٢) دَ رحمت سبب توبه اواستغفار دے۔

[٤٧] هرکله چه په دوی دَ کفر اودَ شرك دَوجے نه مختلف عذابونه راغلل قحط ، خشك سالی، مرضونه وغیره نو دوی دَ دے نسبت صالح علیه السلام ته کوؤ چه دا بدحالی ستا دَ نحوست دَ وجے نه ده یعنی په دے وجه چه ته دَاولیاؤ او بزرګانو تصرفات نه منے هغه ورله جواب ورکړو حاصل دَ جواب دا دے چه دا بدحالی ستاسو دَ بد اعمالو دَ وجے دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه په تاسو باندے عذاب دے ۔حکمتونه دا دی (١) دَ طیره عقیده دَ جاهلانواومشرکانو عقیده ده تفصیل دَطیره ابن کثیر لیکلے دے (٢) بدحالات دَ وجے دَ بد اعمالونه دی (٣) دَ بعض عملونوسزا په دنیاکښ ورکیدے شی۔

[٤٨] ﴿رَهْطٍ﴾ نوم دَ جمع دے په دوی کښ دَ یو یوشخص ډیرتابعدار وؤ دَ دے وجے نه ئے رَهْطٍ ورته اُوئیل ﴿يُفْسِدُوْنَ فِي الْاَرْضِ﴾ فساد دَ دوی په ډیرو قسمونو سره وؤ (١) شرك ته دعوت ورکول (٢) دَ صالح علیه السلام دَ تابعدارئ نه منع کول (٣) دَ خلقوپه عیبونوپسے تفتیش کول (٤) روپئے اشرفئے په سود باندے ورکول اونورګناهونه کول ﴿وَلَا يُصْلِحُوْنَ﴾ په دے کښ رد دے دَهغوی په زعم باندے چه هغوی خپل فسادته اصلاح وئیله۔ حکمتونه دا دی (١) دَ حق پرستومقابله کښ همیشه مفسدان وی (٢) دَ مفسدانو تابعدار ډیروی اودَ حق پرستوکم وی۔

[٤٩] دا دَ دوی دَ فسادکولونمونه ده یعنی دَ صالح علیه السلام دَ قتل دَپاره تدبیرونه جوړول اوپه قسمونوکښ

مَكْرًا وَّهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿٥٠﴾ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ مَكْرِهِمْ ۙ اَنَّا دَمَّرْنٰهُمْ وَقَوْمَهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿٥١﴾
فَتِلْكَ بُيُوْتُهُمْ خَاوِيَةً ۢ بِمَا ظَلَمُوْا ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ﴿٥٢﴾ وَاَنْجَيْنَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

تدبیر او دوی نه پوهیدل (۵۰) پس اوګوره چه څنګه شو انجام د چل ول د دوی یقیناً هلاك کړل مونږ دوی او قوم د دوی ټولو لره (۵۱) پس دغه دی کورونه د دوی راپریوتلی دی په سبب د ظلم د دوی یقیناً په دے کښ خامخا عبرت دے دپاره د هغه قوم چه پوهیږی (۵۲) اوبچ کړل مونږ هغه چاڅه چه ایمان ئے راوړے وو

حیلے اودهوکے کول ﴿تَقَاسَمُوْا بِاللّٰهِ﴾ دا صیغهٔ دفعل ماضی ده د بابِ تفاعل نه اوداحال دے معنیٰ داچه دوی اُوئیل په داسے حال کښ چه قسمونه ئے اوکړل په کورنئے کښ۔ یا داصیغه د امرده دَباب تفاعل نه معنیٰ دا ده دوی اُوئیل یوبل ته قسمونه اوکړئے په اللّٰه تعالیٰ باندے حاصل دا چه دوی عزم اوکړو چه د صالح علیہ السلام او د هغه په اهل باندے د شپے حمله اوکړو او قتل به ئے کړو بیا چه د دهٔ متولی (وارث) په مونږ باندے دعویٰ د قتل اوکړی نودَ دهٔ سره به ګواهان نه وی نومونږ له به قسم راکوی نومونږ به قسم اوکړو چه قسم دے مونږد صالح علیہ السلام د اهل قتل کولودَپاره حاضرشوی نه وؤ اوپه دے قسم کښ مونږد دے وجے نه رشتینی یوچه مونږخوپه قصد د قتل د صالح علیہ السلام کښ به راغلی یونه په قصد د قتل دَاهل د دهٔ اودا حیله ده په قسم خوړلو کښ لکه په دے زمانه کښ حیله ګرملایان خلقوته د قسم کولوداسے طریقه اوښائی چه مدعی په هغے باندے دهوکه شی۔ اوحال داچه قسم کوؤنکے دروغژن وی۔ حکمتونه دا دی (۱) مشرکانوهم قسم په اللّٰه تعالیٰ باندے کوؤ (۲) د حق پرستودَ قتل کولو ارادے مفسدان خلق همیشه کوی (۳) په قسمونو کښ حیلے دهوکے دَمفسدانوعمل دے۔

[۵۰] د دغه حیله جوړولو نه روستودوی د صالح علیہ السلام په کورباندے د شپے حمله اوکړله لیکن اللّٰه تعالیٰ د صالح علیہ السلام حفاظت دَملائکوپه ذریعه سره اوکړوداسے ابن کثیر لیکلی دی اواللّٰه تعالیٰ داسے د خپلو پیغمبرانوحفاظت د ملائکوپه ذریعه سره په ډیراوقاتوکښ کړے دے۔ حکمت دا دے چه اللّٰه تعالیٰ د خپلونیکانو بندګانودَمفسدانوپه مقابله کښ امداد کوی۔

[۵۱] دابیان د مَکرُنَا دے یعنی د اللّٰه تعالیٰ د طرف نه تدبیردا دے ﴿دَمَّرْنَاهُمْ وَقَوْمَهُمْ﴾ دَجدا جدا ذکرنه معلومیږی چه د دغه نهه کسانوعذاب جدا وؤ او د باقی قوم عذاب جدا وؤ ۔ حکمت دا دے چه څوك د بل خلاف مکرونه کوی نو وبال د هغے به په مکرکوؤنکی باندے راځی۔ متل دا دے چاه کن راچاه درپیش (فارسی) من حفربئرًا لاخیه فقد وقع فیه۔ (عربی)

فائده: دا ایت ئے مصدّرکړوپه فَانْظُرْ سره اشاره ده دَواقعے لوئے مقصد عذاب د منکرینو اونجات د مؤمنانو دے۔

[۵۲] ﴿خَاوِيَةً﴾ خالی د اوسیدونکونه یا غورزیدلے شوی ﴿فَتِلْكَ﴾ په دے سره په حقیقت کښ اشاره کیږی هغه څیزته چه محسوس اوموجودوی نوکهنډرات د مدائن صالح موجود دی او﴿لَاٰيَةً لِّقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ﴾ ئے ځکه اوفرمائیل چه د دے قوم خالی کهنډرات په مدائن صالح کښ قریب لارے د تبوك ته

وَكَانُوْا يَتَّقُوْنَ ﴿٥٣﴾ وَلُوْطًا اِذْ قَالَ لِقَوْمِهٖٓ اَتَاْتُوْنَ الْفَاحِشَةَ وَاَنْتُمْ تُبْصِرُوْنَ ﴿٥٤﴾ اَئِنَّكُمْ لَتَاْتُوْنَ
الرِّجَالَ شَهْوَةً مِّنْ دُوْنِ النِّسَآءِ ؕ بَلْ اَنْتُمْ قَوْمٌ تَجْهَلُوْنَ ﴿٥٥﴾ فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهٖٓ اِلَّآ اَنْ
قَالُوْٓا اَخْرِجُوْٓا اٰلَ لُوْطٍ مِّنْ قَرْيَتِكُمْ ۚ اِنَّهُمْ اُنَاسٌ يَّتَطَهَّرُوْنَ ﴿٥٦﴾ فَاَنْجَيْنٰهُ وَاَهْلَهٗٓ اِلَّا امْرَاَتَهٗ ۫ قَدَّرْنٰهَا
مِنَ الْغٰبِرِيْنَ ﴿٥٧﴾ وَاَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ مَّطَرًا ۚ فَسَآءَ مَطَرُ الْمُنْذَرِيْنَ ﴿٥٨﴾ قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ وَسَلٰمٌ عَلٰى ع ١٤
عِبَادِهِ الَّذِيْنَ اصْطَفٰى ؕ آٰللّٰهُ خَيْرٌ اَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿٥٩﴾

او دوی تقویٰ کوله (٥٣) او (یادکړئ) لوط(علیه السلام) لره کله چه اُوئیل هغه قوم خپل ته ایا کوئ تاسو بدکاری او تاسو پوهیږئ (٥٤)ایا تاسو راتلل کوئ نارینوته په شهوت سره ورتیریږئ دَ زنانونه بلکه تاسو قوم دَ جهل کارکوؤنکی ئ (٥٥) نونه وؤ جواب دَ قوم دَهغه مگر دا چه اُوئیل هغوی اُباسئ کورنئ دَ لوط(علیه السلام) لره دَ کلی خپل نه یقیناً دوی خلق دی چه دَپاکئ دعوے کوی (٥٦) پس بچ کړو مونږ دهٔ لره او کورنئ دَ دهٔ لره مگر ښځه دَ دهٔ مقرر کړے وه مونږ هغه دَ پاتے کیدونکونه (٥٧) او را اوروؤ مونږ په دوی باندے باران نا آشنا نونا کاره وؤ باران دَ ویرولے شوؤ (٥٨) اُوایه صفتونه دَ خدائے خاص اللّٰه تعالیٰ لره دی او سلامتیا ده (دَ عذابونو افتونونه دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه) په بندګانو دَ هغه باندے هغه چه غوره کړیدی ایا اللّٰه تعالیٰ غوره دے (دپاره دَ الوهیت) او که هغه څوک چه دوی ئے دَ اللّٰه تعالیٰ سره شریکوی (٥٩)

اوس هم موجود دی۔ حکمت دادے ډیرقومونه هلاك شی اوکنډرات ئے پاتے شی دپاره دَ دے چه روستو خلق ترینه عبرت حاصل کړی۔

[٥٣] دا دلیل دے چه سبب دَ نجات ایمان اوتقویٰ ده اودا دَ دے قصے لوے حکمت دے چه صالحین په نجات کښ اللّٰه تعالیٰ ته محتاج دی۔

[٥٤نه تر٥٨] پورے دا ځلورمه قصه ده په دے کښ هم ډیرحکمتونه دی، لوے حکمت پکښ دا دے چه انبیاء اوصالحین په نجات اوسلامتیاکښ اللّٰه تعالیٰ ته محتاج دی حکمتونه دا دی (١) استعمال دَ رجالواوهلکانو په شهوت سره داهم فاحشه ده (٢) اودا دَجاهلانوعمل دے (٣) حق پرستولره دَ وطن نه ویستل (٤) اوپه هغوی پورے مسخرے کول داهم دَ جاهلانو کارونه دی (٥) داسے فواحش سبب دَ عذاب دَ دنیا دی (٦) باطل پرست کمال ته عیب وائی﴿وَاَنْتُمْ تُبْصِرُوْنَ﴾ یعنی تاسوپوهیږئ چه دا فحش دے اوګناه ده یا داچه تاسوداعمل دَیوبل په مخکښ کوئ یوبل نه پرده هم نه کوئ ﴿اِنَّهُمْ اُنَاسٌ يَّتَطَهَّرُوْنَ﴾ داپه طریقه دَ مسخرے دے یعنی چه تاسوځانونه پاك ګڼرئ اومونږپلیت نوپاك خودَ پلیت نه لرے کیدل پکاردی نوتفصیل دَ دے په سورهٔ اعراف کښ ذکرکړے شویدے۔

[٥٩] دَ دے ایت نه ترآخرَدَ سورهٔ پورے دریم باب دے په دے کښ دواړه دعوے دَ توحید ذکرکوی اوپه مینځ دَ هغے کښ تفصیل دَ توحید الوهیت دے په عقلی دلیلونواعترافیوسره بیا زجرونه دی په کثرت سره بیا تسلی ده رسول اللّٰه ﷺ ته اودا امور دَ دعوت دی بیا تخویف اخروی دے په تفصیل سره او اخرکښ وحی

اَمَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَاَنْزَلَ لَكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ مَآءً ۚ فَاَنْۢبَتْنَا بِهٖ حَدَآئِقَ ذَاتَ بَهْجَةٍ ۚ مَا كَانَ لَكُمْ اَنْ تُنْۢبِتُوْا شَجَرَهَا ؕ ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ؕ بَلْ هُمْ قَوْمٌ يَّعْدِلُوْنَ ۞ اَمَّنْ جَعَلَ الْاَرْضَ قَرَارًا وَّجَعَلَ خِلٰلَهَآ

ایا هغه څوك چه پیدا کړیدی اسمانونه او زمکه او راورولی دی تاسو لره دَ اسمان دَ طرف نه اوبه نو زرغون کړیدی مونږ په هغے سره باغونه سره دَ تازګئ نه نشی کیدے تاسو لره دا چه رازرغون کړئے بوټی دَ هغے ایاشته دَ دے کارونو واکدار دَ اللّٰه تعالیٰ سره بلکه دوی قوم دے چه دَ حق نه اوړی (٦٠) ایا هغه څوك چه ګرځولے ده زمکه ټینګه (ټکاؤ والا) او پیدا کړی دی په مینځ دَ هغے کښ

دلیلونه په رد دَ شرك فی العبادة اودعوت الی القرآن بیا تخویف دنیوی دے۔په دے ایت (٥٩) کښ اوله دعویٰ ده یعنی انبیاء علیهم السلام په سلامتیاکښ اللّٰه تعالیٰ ته محتاج دی دوی دَ اللّٰه تعالیٰ سره شریك نشی کیدے اوداتفریع ده په قصه دَصالح اولوط علیهم السلام باندے اوتفسیرابن کثیرکښ ذکردی چه داطریقه دَ خطبے وئیلوده چه اول حمد دَ اللّٰه تعالیٰ دے بیاسلام دے په انبیاء علیهم السلام باندے بیا تفصیل دَ توحید دَ اللّٰه تعالیٰ دے په دلیلونوعقلیوسره اودا په دے سورةکښ دویم خطاب دَ نبی ﷺ دے ﴿اصْطَفٰی﴾ دَصفانه اخستلے شویدے ځکه چه انبیاء علیهم السلام دَ خیرودَ بشریت (یعنی دَګناهونونه) پاك اوصاف وی ﴿خَيْرٌ﴾ دلته په معنیٰ دَ تفضیل نه دے ځکه چه مقابل کښ هیڅ خیرنیشته یاصیغه دَتفضیل په عقیده دَمشرکانوسره ذکرکړیده چه هغوی په خپلو الهوکښ خیر ګڼلو، اوتقدیرد عبارت دا دے۔ اَعِبَادَةُ اللّٰهِ خَيْرٌ اَمْ عِبَادَةُ مَا يُشْرِكُوْنَ، (آیا بندګی کول دَ اللّٰه تعالیٰ غوره ده اوکه بندګی کول دَ شرکاؤدَ دوی) اودا استفهام تقریری دے ځکه چه روایت کړے شویدے چه نبی ﷺ به دَ دے ایت نه روستو وئیل (بَلِ اللّٰه خَيْرٌ وَّ اَبْقٰی وَاَجَلُّ وَاَكْرَمُ)۔

[٦٠] دَ دے ایت نه دلیلونه عقلیه شروع شول په توحید دَ الوهیت باندے اودا اعترافی سکوتی دی ځکه چه تپوس کښ ئے (استفهام) ذکرکړیدے اوجواب دَ خصم ئے نه دے ذکرکړے ﴿اَمَّنْ﴾ داپه اصل کښ اَم مَنْ دے اواَم په معنیٰ دَ بَل دے یعنی اول چه سوال ذکرکړوپه اللّٰه سره نودا تفصیل دے په ذکردَ صفاتودَ الوهیت سره اوپه دے ایت کښ درے ذکرکړیدی او ایت کښ تقدیردے دَ محکښ پشان یعنی اَعِبَادَةُ مَنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ اه (خیرٌ) اَم عِبَادَةُ مَا يُشْرِكُوْنَ۔ دویمه توجیه دا ده چه دا مستقل تپوس دے معنیٰ ئے دا ده (بلکه) ایا چاپیداکړیدی اسمانونه او زمکه (الی اخره) اوجواب حذف دے (لیقولن اللّٰه) اَاِلٰهٌ مَعَ اللّٰهِ دا مستقل تپوس دے یعنی هرکله چه دوی اومنله چه اللّٰه تعالیٰ اسمانونه او زمکه پیدا کړیدی نو ایابل څوك(اله) شته چه پشان دَ اللّٰه تعالیٰ داکارونه اوکړیشی دَ دے نه روستوهم جواب حذف دے یعنی لا (نیشته) او ﴿بَلْ هُمْ قَوْمٌ يَّعْدِلُوْنَ﴾ زجردے په معنیٰ دَ عدول دے یعنی دَحق نه بے دلیله اوړی یا دَ عدل معنیٰ مساوات دے یعنی دوی دَ اللّٰه تعالیٰ سره نورخلق برابروی او دارنګ تشریح په دے روستو ایاتونوکښ تر(٦٤) پورے ده اوپه دے ایاتونو کښ دَ اِلٰه معنیٰ ته اشاره ده چه اله هغه ذات دے چه داکارونه (چه په دے پنځه ایاتونوکښ ذکرشویدی) کولے شی اوهغه ته متصرف اوکارساز وئیلے کیږی۔ نومعلومه شوه چه په دے ایاتونوکښ اله په معنیٰ دَ متصرف او واکدار سره دے اودا دَدے عامه معنیٰ ده ﴿مَا كَانَ لَكُمْ اَنْ تُنْۢبِتُوْا

اَنْهٰرًا وَّجَعَلَ لَهَا رَوَاسِيَ وَجَعَلَ بَيْنَ الْبَحْرَيْنِ حَاجِزًا ؕ ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ؕ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۶۱﴾
اَمَّنْ يُّجِيْبُ الْمُضْطَرَّ اِذَا دَعَاهُ وَيَكْشِفُ السُّوْٓءَ وَيَجْعَلُكُمْ خُلَفَآءَ الْاَرْضِ ؕ ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ؕ قَلِيْلًا مَّا
تَذَكَّرُوْنَ ﴿۶۲﴾ اَمَّنْ يَّهْدِيْكُمْ فِيْ ظُلُمٰتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَمَنْ يُّرْسِلُ الرِّيٰحَ بُشْرًا بَيْنَ يَدَيْ رَحْمَتِهٖ ؕ ءَاِلٰهٌ
مَّعَ اللّٰهِ ؕ تَعٰلَى اللّٰهُ عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿۶۳﴾ اَمَّنْ يَّبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ وَمَنْ يَّرْزُقُكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ ؕ ءَاِلٰهٌ
مَّعَ اللّٰهِ ؕ قُلْ هَاتُوْا بُرْهَانَكُمْ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۶۴﴾ قُلْ لَّا يَعْلَمُ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الْغَيْبَ اِلَّا اللّٰهُ ؕ

نهرونه او پیدا کړیدی دَ (هغے دَ ټینګولو) د پاره کلك غرونه او پیدا کړیده په مینځ دَ دواړو دریابونو کښ پرده ایا شته دَ دے کارونو واکدار دَ اللّٰه تعالیٰ سره بلکه ډیر دَ دوی نه نه پوهیږی (٦١) ایا هغه څوك چه قبلوی دُعا دَ ډیر نا چاره هر کله چه دَهغه نه غواړی او لرے کوی مصیبتونه او ګرځوی تاسو دَ یوبل خلیفه ګان په زمکه کښ ایا شته دَ دے کارونو واکدار دَ اللّٰه تعالیٰ سره ډیر لږ نصیحت قبلوئ تاسو (٦٢) ایا هغه څوك چه لار ښائی تاسوته په تیرو دَ اوچه اودَ سمندرکښ او څوك رالیږی هواګانے زیږے ورکوؤنکی مخکښ دَ رحمت دَ هغه نه ایا دَ دے کارونو واکدار شته دَ اللّٰه تعالیٰ سره لوئے دے اللّٰه تعالیٰ دَهغے نه چه دوی ورسره شریك جوړوی (٦٣) ایا هغه څوك چه اول کوی پیدائش بیا دوباره کوی او څوك روزی درکوی تاسو ته دَ اسمان او دَ زمکے نه ایا دَ دے کارونو واکدار شته دَ اللّٰه تعالیٰ سره اُوایه راوړئے یقینی دلیل خپل که تاسو رښتینی ئیے (٦٤) اُوایه نه پوهیږی هغه څوك چه په اسمانونو او زمکه کښ دی په غیب باندے سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه

شَجَرَهَا﴾ دا خطاب عام دے ټول مخلوق ته اولیاء پکښ داخل دی چه هیڅوك طاقت نه لری چه دَ زمکے نه اونے بوټی زرغون کړی۔

[٦٢] په دے ایت کښ ئیے درے صفتونه دَ الوهیت ذکرکړیدی اوپه دے کښ ئے درے احوال دَ انسان هم ذکرکړیدی (١) حاجت غوښتل په وخت دَ مجبورئے کښ (٢) تکلیف لرے کول (٣) غالب کیدل یا اولاد ورکول ﴿الْمُضْطَرَّ﴾ ډیرعاجزی کوؤنکے اومجبوره، دَ دے اضطرار په وجه باندے ډیره تضرع کول دی په دعاکښ نو اللّٰه تعالیٰ دَ هغه دعا قبوله کړی که مؤمن وی او که کافروی ﴿وَيَكْشِفُ السُّوْٓءَ﴾ دا دلیل دے چه مشکل کُشا صرف اللّٰه تعالیٰ دے او داسے په سورة انعام (١٧) اوسورة یونس (١٠٧) کښ ذکرشویدی ﴿خُلَفَآءَ الْاَرْضِ﴾ معنیٰ دا چه تاسوله غلبه درکړی په کافرانوباندے اودَ هغوی دَ زمکوبه تاسومالکان اوګرځوی یا معنیٰ داچه تاسوله اولاد درکوی او دَیوبل په ځائے باندے موآبادکړی۔

[٦٣] په دے کښ صرف دوه صفتونه ذکرکړی دی ﴿ظُلُمٰتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ﴾ هغه صحراګانے اوبیابانونه چه نخښے(میلونه) په کښ نوی۔ اوهغه چپے دَ دریاب چه طرفونه پکښ نه معلومیږی هغے ته ئے ظُلُمٰتِ اوئیل اوپه دے کښ دَ انسان دَ سفر حالت ذکر کوی او حال دَ هواګانو ئے (چه دَ انسان ژوند په هغے باندے بناء دے) ذکر کړیدے۔

[٦٤] په دے کښ ئے درے صفتونه ذکرکړیدی (١) دَ انسان خلق اول او(٢)دویم او(٣) رزق ورکول۔

وَمَا يَشْعُرُونَ اَيَّانَ يُبْعَثُونَ ﴿٦٥﴾ بَلِ ادّٰرَكَ عِلْمُهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ ۚ بَلْ هُمْ فِي شَكٍّ مِّنْهَا ۚ بَلْ هُمْ مِّنْهَا عَمُونَ ﴿٦٦﴾ ع

او دوی نه پوهیږی چه کله به دوی دوباره ژوندی کولے شی (٦٥) بلکه بند دے علم دَ دوی په باره دَ اخرت کښ بلکه دوی په شك کښ دی دَ هغے نه بلکه دوی دَ هغے نه پرانده دی (٦٦)

﴿قُلْ هَاتُوا بُرْهَانَكُمْ﴾ دا واضح دلیل دے چه صدق دَخبرے په صحیح دلیل باندے بنادے اودا دریم خطاب دے نبی ﷺ ته۔ په دے ایاتونو کښ پنځلس صفات عقلیه دَ اِلٰه ذکرشول اوپه ټولو کښ جواب په نفی (لا) سره مراد دے نوحاصل دا شوچه نیشته دَ دے کارونوقدرت لرونکے اوکوؤنکے سیواد اللّٰه تعالیٰ نه اودا معنیٰ ده دَ لا اله الا اللّٰه۔

فائده: دَ دے ایاتونوپه فواصلو کښ ئے په ترتیب سره حالات دَمشرکانوذکرکړل اول اوږدل بغیرد دلیل نه، دویم بے علمی اوجهل، دریم نصیحت نه قبلول دَ وجے دَغفلت اوعنادنه، څلورم شرك کول، پنځم طلب دَ دلیل دَمشرك اوعاجزکیدل دَ دوی دَ دلیل نه۔ اودَ دے ترتیب اوتقسیم یوحکمت دا دے چه دَ اول دلیل جواب دَ ټولواهل عقلوپه نیزباندے واضح دے چه لا دے اوسره دَ دے نه دوی نه منی نودَ زجرمستحق دی او دویم دلیل کښ داسے امورذکر دی چه دوی دَ هغے دَعلم دعوے کولے لیکن هرکله چه په علم باندے ئے عمل نه کوؤنواوئیلے شو چه دوی بے علمه دی اودویم دلیل کښ اشاره ده چه هرکله دَ انسان نه دا مصیبتونه لرے شی اوحاجت ئے پوره شی نوحق ترے هیرشی دَ دے وجے نه ﴿قَلِيلًا مَّا تَذَكَّرُونَ﴾ ئے او فرمائیل۔ اوځلورم دلیل کښ اشاره ده چه په ظلماتودَ بحروبرکښ اوپه سیلئے طوفانونو کښ به دوی اللّٰه تعالیٰ ته آوازکوؤاوهرکله چه به تکلیف لرے کړے شونودوی به شرك کوؤنودَ دے وجے نه تَعٰلَى اللّٰهُ عَمَّا يُشْرِكُوْنَ سره اختتام اوکړو۔ اوپنځم دلیل سره چه پوره حجت قائم کړے شونوپه آخرکښ دَ مشرکانونه دلیل طلب کړے شو۔

[٦٥] په دے ایت کښ دویمه دعویٰ دَ سورة ذکرکوی اودا متعلق دے دَ قصے دَ موسیٰ اوسلیمان علیهم السلام سره اوهرکله چه مخکښ ایاتونو کښ قدرت اوتصرف خاص کړے شوپه اللّٰه تعالیٰ پورے اونفی دَ شرك فی التصرف اوشوه نو اوس په دے ایت کښ علم دَ غیب خاص کوی په اللّٰه تعالیٰ پورے اونفی دَ شرك فی العلم کوی اودا څلورم خطاب دے نبی ﷺ ته ﴿الْغَيْبَ﴾ نه مراد هغه څیزونه دی چه په هیڅ سبب سره بنودلے شوی نه دی نه په عقل سره اونه په حواسو اونه په وحی سره اودے ته غیب حقیقی وائی اودَ دے سره متعلق قصه قرطبی ذکرکړیده او مطلب ئے دا دے چه کوم یوڅیز دَ انسانانوپه علم کښ راشی نوهغے ته غیب نه وئیلے کیږی ﴿مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ﴾ نه مراد ملائك دی او عیسیٰ علیه السلام او ارواح دَ ټولومؤمنانوچه په علیّین کښ دی اودا آیت صریح نص دے په نفی دَعلم غیب کښ دَ غیراللّٰه نه هم ذاتی اوهم عطائی اوهم جسمانی او روحانی۔ سوال اول الااللّٰه استثناء منقطع ده اوکه متصل ده اوپه دواړه حالتونو کښ نصب (زور) پکار وو نودلته ولے مرفوع ذکرشو؟۔ جواب اول دا استثناء منقطع ده ځکه چه اللّٰه تعالیٰ دَجنس دَ من فی السمٰوٰت نه نه دے او رفع په مستثنیٰ په لغت دَ بنی تمیم کښ جائز ده بنا په بدلیت سره یعنی الا اللّٰه په اصل کښ بدل دے دَ مَن نه او مَن په محل دَ رفع کښ دے نو بدل ئے هم مرفوع

وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا ءَاِذَا كُنَّا تُرٰبًا وَّ اٰبَآؤُنَآ اَىِٕنَّا لَمُخْرَجُوْنَ ﴿٦٧﴾ لَقَدْ وُعِدْنَا هٰذَا نَحْنُ وَاٰبَآؤُنَا مِنْ قَبْلُ ۙ
اِنْ هٰذَآ اِلَّآ اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿٦٨﴾ قُلْ سِيْرُوْا فِى الْاَرْضِ فَانْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُجْرِمِيْنَ ﴿٦٩﴾ وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ

او وائی هغه کسان چه کفرئے کړیدے ایا هر کله چه مونږ خاورے شو او پلاران زمونږ ایا مونږ به خامخا راویستلے کیږو (٦٧) یقیناً وعده کړے شوے ده دا زمونږ سره او دَمشرانو زمونږ سره دَ مخکښ نه، نه دی دا مګر دروغ قصے دی دَ زړوخلقو (٦٨) اُوایه اوګرځئے په زمکه کښ پس اوګورئے چه څرنګ شو انجام دَ مجرمانو (٦٩) اومه خفه کیږه په دوی باندے

دے او ابن کثیر دا قول نقل کړیدے دَ زجاج اودَ فرآء نه۔ دویم جواب دا دے چه دا استثناء متصل ده او رفع دَ مستثنیٰ په نیزدَ اهل حجازو باندے په حال دَکلام سلبی کښ جائزده۔ دویم سوال اللّٰه تعالیٰ دَ جنس دَ مَن فی السمٰوٰت نه نه دے ځکه چه هغه مخلوق دی او اللّٰه تعالیٰ خالق دے نواستثناء متصل څرنګ صحیح کیږی؟جواب دادے چه دَ مَن فی السمٰوٰت اطلاق په اللّٰه تعالیٰ باندے جائزدے په قرینه دَسورة انعام (٣) سره (په هغه معنیٰ سره په سورة انعام کښ مراد ده) نواستثناء متصله صحیح ده (کذافی تفسیرنیشاپوری) دریم سوال هرکله چه یوځیزدَ انسان نه پټ وی نوهغه غیب دے اوبیائے په عقل یا حواسویا په ذریعه دَ دلیل وحی سره معلوم کړی نودَ دهٔ علم وربانده حاصل شونوعلم دَ غیب ورته حاصل شو؟ جواب دا دے چه دا اطلاق اګر چه په لغت کښ صحیح دے لیکن په شریعت کښ جائزنه دے ځکه چه دَ لفظِ علم دَ غیب سره ثبوتاً په قرآن او حدیث کښ سیوا دَاللّٰه تعالیٰ نه دَ بل چا دپاره نه دے مستعمل شوے اواطلاق لغةً سره اطلاق شرعی نه ثابتیږی (کذافی روح المعانی) دَ دے ایت نه معلومه شوه چه څوك نبی یا ولی یا نجومی وغیره ته دَعلم غیب صفت ثابتوی نوهغه کافر دے ځکه چه دَ دے صریح ایت نه منکر دے دارنګ شرح فقه اکبرکښ لیکلی دی اوحدیث صحیح دَ عائشه رضی اللّٰه عنها نقل دے چاچه اُوئیل چه نبیﷺ دَصباپه حالاتوباندے عالم دے پس لوئے دروغ ئے په اللّٰه تعالیٰ باندے اُوئیل۔

[٦٦] دا زجر دے په انکاردَ قیامت باندے روستودَ زجرنه په شرك دَ منکرینوکوم چه په آیت (٦٣) کښ تیرشول۔ بَل یا په خپله معنیٰ سره دے یا په معنیٰ دَ هل استفهامی دے په استفهام انکاری سره ﴿اَدّٰرَكَ﴾ دَ دے مفسرینوخلورمعانی ذکرکړیدی۔ اوله معنیٰ بل په معنیٰ دَ هل اواَدّٰرك په معنیٰ دَ استحکم، یعنی ایامضبوط دے علم دَ دوی په باره دَ قیامت کښ (چه قیامت به نه راځی) دویمه معنیٰ اَدّٰرك په معنیٰ دَ غاب سره دے۔ معنیٰ دا ده بلکه غائب دے علم دَ دوی په باره دَ آخرت کښ یعنی علم ئے هغے ته نه رسیږی۔ دریمه معنیٰ اَدّٰرك په معنیٰ تتابع قولهم دے معنیٰ داچه بلکه پرله پسے دی خبرے دَ دوی په باره (دَ انکار) دَ آخرت کښ۔ څلورمه معنیٰ اَدّٰرك په معنیٰ دَ تساقط دے معنیٰ دا چه بلکه ختم شویدی (اسباب) دَ علم دَ دوی په باره دَ آخرت کښ﴿عَمُوْنَ﴾ مراد ترینه عمی دَ زړه ده چه هغه جهل دے اولفظ دَ بل دَ ترقئے دپاره دے اواشاره ده چه په دے ترتیب سره په دوی کښ انکار موجود دے یا په دے کښ دَ منکرینودرے قسمونوته اشاره ده۔

[٦٨،٦٧] دا هم زجردے په انکاردَ بعث الموت سره اودا انکار صرف په سبب دَ استبعاد سره دے یعنی دَعقل نه ئے لرے ګنړی دلیل دَانکار ورسره نیشته۔ اوپه دویم کښ اشاره ده چه مسئله دَ بعث زړه خبره ده

وَلَا تَكُنْ فِيْ ضَيْقٍ مِّمَّا يَمْكُرُوْنَ ﴿٧٠﴾ وَيَقُوْلُوْنَ مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿٧١﴾ قُلْ عَسٰٓى اَنْ يَّكُوْنَ رَدِفَ
لَكُمْ بَعْضُ الَّذِيْ تَسْتَعْجِلُوْنَ ﴿٧٢﴾ وَاِنَّ رَبَّكَ لَذُوْ فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَشْكُرُوْنَ ﴿٧٣﴾ وَاِنَّ رَبَّكَ
لَيَعْلَمُ مَا تُكِنُّ صُدُوْرُهُمْ وَمَا يُعْلِنُوْنَ ﴿٧٤﴾ وَمَا مِنْ غَآئِبَةٍ فِي السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ اِلَّا فِيْ كِتٰبٍ مُّبِيْنٍ ﴿٧٥﴾ اِنَّ هٰذَا
الْقُرْاٰنَ يَقُصُّ عَلٰى بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اَكْثَرَ الَّذِيْ هُمْ فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ﴿٧٦﴾ وَاِنَّهٗ لَهُدًى وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٧٧﴾ اِنَّ

اومه کیږه په تنګسیا کښ دَ دوی دَ چلونو دَ وجے نه (۷۰) او دوی وائی کله به وی دا وعده که چرے تاسو رشتینی ئیے (۷۱) اُوایه نزدے ده چه راوبه رسی تاسو ته بعضے هغه عذاب چه تاسوئے په تلوارے غواړئے (۷۲) او یقیناً ستا رب خامخا فضل والا دے په خلقو باندے اولیکن ډیر دَ دوی نه شکرنه کوی (دَاللّٰه تعالیٰ)(۷۳) او یقیناً ستارب خامخا پوهیږی په هغه خبرو چه پټوی ئے سینے دَ دوی او په هغه چه دوی ئے ښکاره کوی (۷٤) او نیشته هیڅ پټه (خبره او خصلت) په اسمان او زمکه کښ مګر په کتاب ښکاره کښ ده (۷۵) یقیناً دا قرآن بیانوی په بنی اسرائیلو باندے ډیرے دا سے مسئلے چه دوی په هغے کښ اختلاف کوی (۷٦) او یقیناً دا قرآن خامخا هدایت او رحمت دے دپاره دَ مؤمنانو (۷۷) یقیناً

لیکن دوی ورته اساطیر وائی لکه دے زمانه کښ کیمونسټ وائی چه دَ قیامت خبرے دَملیانوډکوسلے دی داسے په سورة مؤمنون (۸۲) کښ هم تیرشوی دی۔

فائده: هرکله چه په هغه سورة کښ دَ اباؤ منکرینوذکرډیر مخکښ تیرشویوؤځکه دَ اباء لفظ ئے په هذا باندے ډواندے راوړو اودے سورت کښ دا انکار قریب ذکرشو نوهذا ئے مخکښ کړو۔

[٦۹] په دے ایت کښ جواب دے دَ انکار دَ هغوی په طریقه دَ تخویف دنیوی سره او دا پنځم خطاب دے نبی ﷺ ته۔

[۷۰] دا تسلی ده پیغمبرته په انکار دَ منکرینو اوپه مکرونو جوړولو دَ هغوی په مخالفت دَ نبی ﷺ کښ اوپه دے ایت کښ شپږم او اوم خطاب دے۔

[۷۱] دا زجر دے منکرینو ته په انکار دَ قیامت سره۔

[۷۲] دا جواب دے په طریقه دَتخویف دنیوی سره ځکه چه بَعْضُ الَّذِیْ نه مراد عذاب دَ دنیا دے او دا اتم خطاب دے۔

[۷۳] دا هم زجردے چه اللّٰه تعالیٰ دَ دوی نه عذاب روستو کوی په فضل خپل سره لیکن دوی دَ دے فضل شکر نه کوی او دا نهم خطاب دے۔

[۷٤] دا دلیل عقلی دے او رد دَ شرك فی العلم دے اولسم خطاب دے۔

[۷۵] داهم دلیل عقلی دے اورد دے په شرك فی العلم باندے او ﴿كِتَابٍ مُّبِيْنٍ﴾ نه مراد لوح محفوظ دے اودَ دواړو دلیلونومطلب دا دے چه اللّٰه تعالیٰ دَ حالاتو دَد ے منکرینو نه ښه خبر دے لیکن مهلت ورکوی۔

[۷٦] دا ترغیب الی القرآن دے اوهرکله چه بعضِ دَ غائب ځیزونونه اختلافات دَ بنی اسرائیلو وؤ نوپه دے ایت کښ ئے اشاره اوکړه چه دغه قسم غائبات په قرآن حکیم سره ښکاره کیږی۔ اوپه دے کښ اشاره ده چه واقعات دَ سلیمان علیه السلام بنی اسرائیلوپټ کړی اوبدل کړے وؤ اوپه سلیمان علیه السلام ئے دروغ وئیل نوپه

رَبَّكَ يَقْضِي بَيْنَهُمْ بِحُكْمِهٖ ۚ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْعَلِيْمُ ﴿۷۸﴾ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ ۭ اِنَّكَ عَلَى الْحَقِّ الْمُبِيْنِ ﴿۷۹﴾ اِنَّكَ لَا تُسْمِعُ
الْمَوْتٰى وَلَا تُسْمِعُ الصُّمَّ الدُّعَاۗءَ اِذَا وَلَّوْا مُدْبِرِيْنَ ﴿۸۰﴾ وَمَآ اَنْتَ بِهٰدِ الْعُمْيِ عَنْ ضَلٰلَتِهِمْ ۭ اِنْ تُسْمِعُ اِلَّا
مَنْ يُّؤْمِنُ بِاٰيٰتِنَا فَهُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴿۸۱﴾ وَاِذَا وَقَعَ الْقَوْلُ عَلَيْهِمْ اَخْرَجْنَا لَهُمْ دَاۗبَّةً مِّنَ الْاَرْضِ تُكَلِّمُهُمْ ۙ اَنَّ

ستا رب فیصله به اوکړی په مینځ د دوی کښ په حکم خپل سره او هغه زورآور دے پوهه دے په هرڅه باندے (۷۸) نو ځان اوسپاره په الله تعالیٰ باندے یقیناً ته په حق ښکاره باندے ئے (۷۹) یقیناً ته اورول نشے کولے (کافرانوته چه د) مړوپشان وی او اورول نشے کولے (کافرانوته) چه د کنړو پشان دی کله چه اوګرځی دوی شا کوؤنکی (۸۰) اوته نه ئے هدایت کوؤنکے (کافرانوته) چه د ړاندو پشان دی (چه بچ ئے کړے) د ګمراهئے د دوی نه اورول نشے کولے مګر هغه چاته چه ایمان لری په ایاتونو زمونږ پس دوی تابعداری کوی (۸۱) او هرکله چه پوره شی فیصله د عذاب په دوی باندے رااو باسو به مونږ دوی لره یو ځناور د زمکے نه خبرے به کوی د دوی سره (څکه چه) یقیناً

دے سورۃ کښ د هغے بیان اوشو۔

[۷۷] دا هم ترغیب دے قرآن ته په ذکر د دوؤ صفتونو جامعو سره۔

[۷۸] دا تسلی ده رسول ته او یؤولسم خطاب دے اود حکم نه مراد قرآن دے نودا فیصله دنیوی ده اوترغیب دے قرآن ته یا د حکم نه مراد فیصله د آخرت ده نو دا تخویف اُخروی دے مخالفینوته۔

[۷۹] دا هم تسلی او تشجیع ده رسول اللهﷺ ته اودولسم او دیارلسم خطاب دے۔

[۸۰،۸۱] داهم تسلی ده رسول اللهﷺ ته څوارلسم او پنځلسم خطاب دے اوجواب د وهم دے چه هرکله د دے رسول دعوت حق مبین دے نودا په دے کافروخلقو کښ اثر ولے نکوی؟ نوجواب اوشوحاصل دا چه ستابیان په دوی کښ تاثیرنه کوی د دے مانع د دوی د طرف نه دے ستا د طرف نه هیڅ نقصان نیشته هغه داچه دوی پشان د مړودی او د مړی ټول حواس اوعقل بے کاره وی یعنی نه اوری اونه وینی اونه پوهیږی په عقل سره او دارنګ دوی پشان د کنړو دی اود کنړحاسه د اوریدلوبے کاره ده او دارنګ دوی پشان د ړاندودی چه حاسه د لیدلوئے بے کاره ده۔ یعنی د علم اسباب زړه، (عقل) او غوږونه اوسترګے دی او هغه لکه چه د مړی اوکونړ او ړوند بے کاره دی داسے د دے کافرانوهم دی نو دا پشان د ختم الله علی قلوبهم وعلی سمعهم وعلی ابصارهم غشاوة۔ بقره (۷) دے۔ هرکله چه مړے اوکونړپه نا اوریدلوکښ شریك دی نوهغه دواړه ئے یوځائے ذکرکړل او دواړو سره ئے لاتسمع ذکرکړلے یعنی تشبیه ده د کافرانوعنادیانود مړواود کنړوسره په نه اوریدلوکښ دا درے تشبیهات په طریقه د تنزل سره دی یعنی اوله اعلیٰ تشبیه ده څکه چه په مړوکښ هیڅ حاسه نیشته اوپه کونړکښ صرف د آوریدلوحاسه نیشته خو چه نه اوری نوسوچ اوفکربه څرنګ اوکړی اوپه ړوندکښ صرف حاسه د لیدلونیشته اوریدل اوفکرخوکولے شی یا دا تشبیهات په اعتبارد درے قسمونو د منکرینوسره دی۔ (باقی مسئله د مړود اوریدو اونه اوریدوبه انشاء الله تعالیٰ په تفسیرد سورۃ روم کښ تفصیلاً رازی) ﴿اِذَا وَلَّوْا﴾ دا د زیادت تاکید دپاره دے یعنی کونړنه اوری اوهرکله چه شا اوګرځوی بیا بالکل نه اوری ۔ دارنګ دے کافرانو هم قرآن ته شاګرځولے ده

النَّاسَ كَانُوا بِاٰيٰتِنَا لَا يُوْقِنُوْنَ ﴿٨٢﴾ وَيَوْمَ نَحْشُرُ مِنْ كُلِّ اُمَّةٍ فَوْجًا مِّمَّنْ يُّكَذِّبُ بِاٰيٰتِنَا فَهُمْ يُوْزَعُوْنَ ﴿٨٣﴾ حَتّٰٓى ع ١٠

خلقو به په اياتونو زمونږ باندے يقين نه لرلو (٨٢) او په کومه ورځ چه راجمع به کړو دَ هر امت نه يو ډله دَ هغه چاچه دروغژن ګڼړی اياتونه زمونږ پس دوی به حصے حصے کړيشی (٨٣) تر هغے پورے

﴿اِنْ تُسْمِعُ اِلَّا مَنْ يُّؤْمِنُ بِاٰيٰتِنَا فَهُمْ مُّسْلِمُوْنَ﴾ معلومه شوه چه ايمان کامل والا دَ قرآن نه پوره فائده اخستلے شی۔ په دے ايت کښ ايمان تصديق دَ قلب دے اواسلام ظاهری اعمال او طاعت کول دی اواسماع نه مراد اسماع دَفائدے ورکولو ده۔

[٨٢] دا تخويف دنيوی دے په سبب دَ عدم ايمان بالآيات والقرآن۔ او مراد دَ وقوع دَ قول نه فيصله دَ غضب دَ اللّٰه تعالیٰ ده په عدم قبوليت دَتوبه اودَايمان سره اونقل دی دَ ابوسعيد خدری په روايت سره هغه وخت به هله راځی چه ټول خلق به امر بالمعروف اونهی عن المنکرپريګدی اودَ عبد اللّٰه بن مسعود په روايت سره هغه وخت دے چه علماء حق مړه شی اوعلم دَ دين اودَ قرآن به پاتے نشی۔ هرکله چه داسے راشی نوبيا به توبه نه قبليږی اومؤمنان به نه پيداکيږی لکه چه نوح عليه السلام ته وحی اوکړے شوه (انه لن يؤمن من قومك الامن قد آمن) هود (٣٦) نودغه وخت به دابة دَ زمکے نه پيداشی په حديث دَ مسلم کښ ذکر دی چه درے علامات دَ قيامت چه ښکاره شی نوبيا به ايمان نه قبليږی نمر دَ مغرب نه راختل او دَجّال او دابة الارض۔ او دارنګ بل حديث دَمسلم کښ علامات دَ قيامت لس ذکرکړی دی اوپه هغے کښ يودابة الارض ده نومعلومه شوه چه دآبة الارض به ضرور راځی ليکن دَ هغے شکل او دَ هغے دَ خروج مکان اونور تفصيلی احوال په صحيح رواياتو سره ثابت نه دی (اګرچه تفسيرقرطبی او نورو مفسرينو ليکلی دی) نو په دے باندے ايمان اجمالی کافی دے اوچاچه دَدے مصداق عمر رضی الله عنه يابل داعی دَحق ګرځولے دے نوهغه تفسيرقرطبی په ډيرے سختئے سره ردکړيدے ﴿تُكَلِّمُهُمْ اَنَّ النَّاسَ﴾ اوله توجيه دا ده چه اَنَّ دويم مفعول دے دَتُكلمهم اوبِاٰياتنا کښ بِاٰيات ربنا مراد دے معنیٰ دا شوه دا دابة به خبر ورکوی چه خلق په اياتونودَرب زمونږ يقين نه کوی دَ دے وجے نه ځه ئے را اوليږلم۔ دويمه توجيه داده تکلمهم دپاره مفعول حذف دے ببطلان الاديان کلها سوی الاسلام اوبعدم قبول توبتهم اوآن متعلق دے په اخرَجنا پورے معنیٰ دا ده چه دا دابة خبر ورکوی خلقوته دَ ابطال دَ ټولو دينونو سيوا دَدين اسلام نه يا به خبر ورکوی په نه قبليدلو دَ توبے دَ دوی سره۔ اودابة به دَ دے وجے را اوباسو چه خلق زمونږ په اياتونو باندے يقين نه لری ۔ دريمه توجيه دا ده چه عليهم په معنیٰ لغوی سره دے يعنی جرح به کوی په انسانانو دَ هغه وخت باندے په دے خبره چه ان الناس آه اوبِاٰيٰتنا نه مراد آيات ربنا دے۔

[٨٣] دَ دے ايت نه تخويف اخروی شروع دے دَ آياتِ الٰهيه مکذبينودپاره ﴿يُوْزَعُوْنَ﴾ بند به کړيشی په يوځائے کښ بيا به بوتللے شی ميدان دَحساب ته۔

اِذَا جَآءُوْ قَالَ اَكَذَّبْتُمْ بِاٰيٰتِيْ وَلَمْ تُحِيْطُوْا بِهَا عِلْمًا اَمَّا ذَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿٨٤﴾ وَ وَقَعَ الْقَوْلُ عَلَيْهِمْ بِمَا
ظَلَمُوْا فَهُمْ لَا يَنْطِقُوْنَ ﴿٨٥﴾ اَلَمْ يَرَوْا اَنَّا جَعَلْنَا الَّيْلَ لِيَسْكُنُوْا فِيْهِ وَالنَّهَارَ مُبْصِرًا ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ
لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿٨٦﴾ وَيَوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّوْرِ فَفَزِعَ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَمَنْ فِي الْاَرْضِ اِلَّا مَنْ شَآءَ اللّٰهُ ؕ وَكُلٌّ
اَتَوْهُ دٰخِرِيْنَ ﴿٨٧﴾ وَتَرَى الْجِبَالَ تَحْسَبُهَا جَامِدَةً وَّهِيَ تَمُرُّ مَرَّ السَّحَابِ ؕ صُنْعَ اللّٰهِ الَّذِيْٓ اَتْقَنَ كُلَّ

چه کله دوی راشی اوبه وائی اللّٰه تعالیٰ ایا تاسو دروغژن ګنړل ایاتونه زما اوحال دا چه نوؤ راګیر کړی تاسو هغے لره په علم خپل کښ بلکه څه دی هغه چه تاسو کول (٨٤) او رابه شی فیصله دَ عذاب په دوی باندے په وجه دَ ظلم دَ دوی پس دوی به خبرے نشی کولے (٨٥) ایا نه ګوری دوی چه یقیناً ګرځولے ده مونږ شپه (تیرے والا) چه ارام اوکړی دوی په هغے کښ او ورځ رنړا والا (چه کسب اوکړی په هغے کښ) یقیناً په دے کښ ډیر دلیلونه دی هغه قوم لره چه ایمان راوړی (٨٦) او په کومه ورځ چه پوکے اوکړیشی په شپیلۍ کښ نو ګبراؤ به شی هغه څوك چه په اسمانونوکښ دی او هغه څوك چه په زمکه کښ دی مګر هغه څوك چه اللّٰه تعالیٰ غواړی (دَهغوی بچ کول) او ټول به راځی هغه ته عاجزی کوؤنکی (٨٧) او وینے به ته غرونو لره ګمان به کوے ته په هغے باندے کلك په ځای باندے او هغه به تیریږی پشان دَ تیریدلو دَ وریځے جوړ خ دَ اللّٰه تعالیٰ دے هغه ذات چه مضبوط کړیدے هر

[٨٤] دَ تکذیب په باره کښ تپوس او زور نه ده چه بغیرد علم اوتحقیق نه ولے تکذیب کوئے یعنی اول خوانسان په یوخبره ځان پوهه کړی نو روستودَ هغے نه بیا تصدیق یا تکذیب کوی ﴿اَمَّاذَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ﴾ یعنی سیوا دَ تکذیب نه نورهم تاسو ناکاره عملونه کول۔

[٨٥] په دے کښ هم تخویف اخروی دے﴿وَقَعَ الْقَوْلُ﴾ یعنی فیصله دَعذاب په دوی باندے واجبه شوه۔ ﴿فَهُمْ لَا يَنْطِقُوْنَ﴾ یعنی حجت اودلیل نشی پیش کولے یا مراد داچه په خوله باندے به ئے مهر اُوهلے شی۔

[٨٦] هرکله چه محکښ زجر او تخویف په انکارد آیات قرآنیه باندے وؤ اوس زجر ورکوی په انکارد آیات عقلیه سره او دارنګ په دے کښ دلیل دے دپاره دَاثبات دَبعث بعدالموت ﴿يُؤْمِنُوْنَ﴾هغه څوك چه یقین کوی چه دا تصرفات دَاللّٰه تعالیٰ دی۔

[٨٧] دَ دے ایت نه تخویف اخروی شروع دے او درے حالات ئے په دے ایت کښ ذکرکړی دی او صحیح دا ده چه نفخ فی الصور دوه ځله ده اول دَ فناء دپاره او دویمه دَ بعث دپاره ۔ او فزع او صعق یوشے دے اومراد دَ دے نه اوله شپیلۍ ده دپاره دَ فنا ځکه چه ورپسے دَغرونوحال ئے ذکرکړیدے اوهغے فنا ته فزع اوصعق هم وائی ځکه چه ویره اوبے هوشی به اول راشی نوبیا به مړه شی، په ﴿اِلَّا مَنْ شَآءَ اللّٰهُ﴾ کښ اختلاف دے بعضو وئیلی دی شهداء دی اوانبیاء علیهم السلام پکښ هم داخل دی اوبعضو وئیلی دی مراد ترینه ملائك دی۔ اوبعضو وئیلی دی چه مراد ترینه کامل مؤمنان دی په قرینه دَ (٨٩) سره مطلب دا دے چه فنا نه رواندے کومه فزع اوګبراهټ راځی نودوی به هغے نه مستثنیٰ وی بالفرض که دوی هغه وخت موجودوی ﴿وَكُلٌّ اَتَوْهُ﴾ کل په معنیٰ کښ جمع دے نوضمیرد جمع ورته راجع کول صحیح دی دویم قول دا دے چه دا نفخ فی الصورپه ورځ دَ محشرده روستو دَ بعث نه اوفزع په معنیٰ دَ صعق (بے هوشئ) دے۔

شَيْءٍ ۖ إِنَّهُ خَبِيرٌ بِمَا تَفْعَلُونَ ﴿٨٨﴾ مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ خَيْرٌ مِنْهَا ۖ وَهُمْ مِنْ فَزَعٍ يَوْمَئِذٍ آمِنُونَ ﴿٨٩﴾
وَمَنْ جَاءَ بِالسَّيِّئَةِ فَكُبَّتْ وُجُوهُهُمْ فِي النَّارِ ۖ هَلْ تُجْزَوْنَ إِلَّا مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٩٠﴾ إِنَّمَا أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ
رَبَّ هَٰذِهِ الْبَلْدَةِ الَّذِي حَرَّمَهَا وَلَهُ كُلُّ شَيْءٍ ۖ وَأُمِرْتُ أَنْ أَكُونَ مِنَ الْمُسْلِمِينَ ﴿٩١﴾ وَأَنْ أَتْلُوَ الْقُرْآنَ ۖ

څیز یقیناً اللّٰه تعالیٰ خبر دار دے په هغه کارونو چه تاسوئے کوئے (۸۸) چاچه راتله اوکړو په ښه (خصلت) سره نو دهٔ لره غوره بدله به وی دَ هغے دَوجے نه او دوی به دَ کبراهټ دَ دغه ورځے نه امن والا وی (۸۹) او چاچه راتلل اوکړل په بدئے نو اوغورځولے به شی مخونه دَ دوی په اور کښ بدله نشی درکیدلے تاسو ته مګر دَ هغه عملونو چه تاسو کول (۹۰) یقیناً امرکړے شوے دے ماته چه خاص بندګی دِ اوکړم دَمالك دَ دے ښار هغه ذات چه عزت ئے ورکړیدے او دَ هغه اختیار کښ هر څه دی او ماته امرکړے شوے دے چه څه شم دَ تابعداریٔ کوؤنکو نه (۹۱) او چه بیانوؤم قرآن

[۸۸] دا دَ احوالو دَ قیام دَ قیامت نه هیبت ناك ځلورم حال دے ﴿تَحْسَبُهَا جَامِدَةً﴾ یعنی اوس ته داګمان کوے چه دا غرونه ډیرکلك دی اوحال داچه دا به دَوریځوپشان روان شی یا داچه په هغه وخت به ته ګمان کوے چه داغرونه په خپل ځائے باندے ولاړدی اوحال داچه روان به وی ځکه چه غټ جسم چه حرکت کوی نوانسان په هغے باندے نه پوهیږی۔ امام قرطبی دَغرونوحالات چه په وخت دَقیام ساعت کښ وی په ترتیب سره ذکرکړی دی اول اندکاك (فدکتا دکة واحدة) دویم کالعهن المنفوش دریم هباء منثورا څلورم نسف پنځم مرالسحاب شپږم سراب ﴿صُنْعَ اللّٰهِ﴾ مفعول مطلق دے دَ فعل یا انظروا محذوف دے یعنی اوګورئے جوړخ دَ اللّٰه تعالیٰ ته غرونو وغیره لره ﴿كُلَّ شَيْءٍ﴾ نه مراد غرونه اودَ هغے ټکړے دی یا هرځیز مراد دے اواتقان نه مراد مناسب اوپه حکمت سره جوړول دی۔

[۸۹] دا دَ احوالو دَ بعث بعد الموت نه پنځم حال دے اوبشارت دے مؤحدینو لره ﴿بِالْحَسَنَةِ﴾ کلمه دَ لَاإِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ ده ﴿خَيْرٌ مِنْهَا﴾ مِن اجلِیه دے یعنی بهترجزاء به وی دَ وجے دَکلمے دَ توحیدنه ﴿مِنْ فَزَعٍ يَوْمَئِذٍ﴾ دا فزع دَ ورځ دَ قیامت دَ محکښ نه جدا ده ځکه چه په ورځ دَ قیامت ډیرهیبتونه دی یودَ هغے نه ذبح دَموت ده دلته صعق مراد نه دے ځکه چه هغه صعق اوبیا افاقه په ټولومؤمنانوباندے هم راځی۔

[۹۰] داتخویف اخروی دے اوپه دے کښ شپږم حال ذکرکوی اوالسیئة نه مراد شرك اوکفردے ﴿هَلْ تُجْزَوْنَ إِلَّا مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ﴾ اشاره ده چه دا جزاپه شان دَ عمل دَ دوی ده دوی دَ اللّٰه تعالیٰ دین لره التهه کړے وؤنودوی به هم التهه کړیشی او دارنګ سورة شعراء کښ تیرشویدی (۹٤) ایت کښ۔

[۹۱] هرکله چه هیبت دَ قیامت ذکرکړے شونودَ هغے نه دَ بچ کیدلو دپاره طریقه ذکرکوی اوداوحی دلیلونه دی۔ ﴿إِنَّمَا أُمِرْتُ﴾ یعنی توحید عقیدةً اوعملاً باندے ماته امرکړے شویدے ﴿رَبَّ هَٰذِهِ الْبَلْدَةِ﴾ دا اول دلیل دے او﴿وَلَهُ كُلُّ شَيْءٍ﴾ دا دویم دلیل دَتوحید دے هرکله چه دوه امرونه دی دَ دے وجے نه دوه دلیلونه ئے ذکرکړل ﴿مِنَ الْمُسْلِمِينَ﴾ مراد دا دے چه دَ توحید عملونه ښکاره کولوباندے ماموریم لکه په سورة انعام (۱٦۳) کښ۔ دَ بَلْدَةِ تخصیص دَ دے وجے نه اوشوچه هغه دَمشرکانو په نظرکښ معظم ده محبوبه ده نودَ هغے رب به هم ضرورمعظم اومعبود وی اودارنګ بعض روایاتوکښ منقول ده چه دابة

فَمَنِ اهْتَدٰى فَاِنَّمَا يَهْتَدِيْ لِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ ضَلَّ فَقُلْ اِنَّمَآ اَنَا مِنَ الْمُنْذِرِيْنَ ﴿٩٢﴾ وَقُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ سَيُرِيْكُمْ اٰيٰتِهٖ فَتَعْرِفُوْنَهَا ۭ وَمَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿٩٣﴾ ع

پس چاچه هدایت اومندلو نو یقیناً هدایت مومی خپلے فائدے لره او څوك چه ګمراه شو نو اُوایه یقیناً ځه دَ ویره ورکوؤنکو نه یم (۹۲) او اُوایه ټول صفتونه دَ خدائے خاص اللّٰه تعالیٰ لره دی زر دے چه اوبه خائیم تاسو ته دلیلونه خپل پس تاسو به ئے اوپیژنئے اونه دے ستا رب غافل دَ هغه عملونونه چه دوی کوی (۹۳)

الارض به دَ زمکے دَ مکےّ نه را اوځی دَ دے وجے نه خاص کړے شوه په ذکرسره په دے سورة کښ۔

فائده: هرکله چه په دے سورة کښ خطابات دَ نبی ﷺ ذکرکړے شول په (٦، ٥٩، ٦٥، ٦٩، ٧٠، ٧٢، ٧٣، ٧٤، ٧٨، ٧٩، ٨٠، ٨١) کښ نودَ دے ایت په اول کښ قل مقدر دے او متعلق دے دَ هغه خطاباتو سره او دا شپارلسم خطاب دے۔

[۹۲] داهم دلیل وحی دے دَ اُمرتُ دَلاندے داخل دے اودا اولسم خطاب دے۔ فقل اتلسم خطاب دے۔ اوتلاوت په طریقه دَ دعوت سره مراد دے اشاره ده چه وضاحت دَ توحید په قرآن بیانولوسره دے ﴿وَمَنْ ضَلَّ فَقُلْ﴾ اصل جزا مقدرده فیضِل علیها اوقُل آه دپاره دَ برائت دَ نبی ﷺ دے دَ ذمه وارے دَ ګمراهانونه۔

[۹۳] دا دعویٰ دَتوحید ده لکه چه دا تفریع شوه په دلیلونودَ توحید اوپه ذکردَ احوالو دَ قیامت باندے اودا نورلسم خطاب دے ﴿اٰيٰتِهٖ﴾ دَ دے نه مراد نمونے دَ عذاب دنیوی دی په مختلفوقومونومکذبینو باندے۔ ﴿وَمَارَبُّكَ بِغَافِلٍ﴾ هم دَ دے تائید دے یا مراد دَ دے نوردلیلونه دَ توحید دَ اللّٰه تعالیٰ دی۔

سُوْرَةُ الْقَصَص (۲۸) مَكِّيَّةٌ (۴۹) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۸۸ رُكُوْعَاتُهَا ۹

طٰسٓمٓ ① تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ② نَتْلُوْا عَلَيْكَ مِنْ نَّبَاِ مُوْسٰى وَفِرْعَوْنَ بِالْحَقِّ لِقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ③
اِنَّ فِرْعَوْنَ عَلَا فِي الْاَرْضِ وَجَعَلَ اَهْلَهَا شِيَعًا يَّسْتَضْعِفُ طَآئِفَةً مِّنْهُمْ يُذَبِّحُ اَبْنَآءَهُمْ وَيَسْتَحْيٖ

طٰ سین میم (۱) دا اٰیاتونه دَ هغه کتاب دی چه وضاحت کوؤنکی دَ حق اوباطل دے (۲) بیا نوؤ مونږ په تا باندے بعضے دَ خبر دَ موسیٰ(علیه السلام) او فرعون نه په رشتیا (دَ تسلیۍ دپاره) دَ هغه قوم چه ایمان راوړی (۳) یقیناً فرعون لوئي کړے وه په ملك کښ او جوړ کړی وؤ او سیدونکی دَهغے ډیرے ډلے کمزورے کوله ئے یوډله دَ هغوی نه حلالَول ئے ځامن دَ هغوی او بے حیا کولے ئے

سورة القصص

ربط: دَ دے سورة دَسورة نمل سره په ډیرو وجوهوسره دے اوله وجه دا ده چه مخکښ سورة کښ اثبات دَ توحید اوشوپه دلیلونونقلیواوعقلیوسره نوپه دے سورة کښ تسلی اوتشجیع ده نبی اومؤمنانوته په رسَولودَ دے مسئلے سره اوبشارت دے په کامیابئے سره۔ دویمه وجه سورة شعراء اونمل دَموسیٰ(علیه السلام) دَ قصے ابتداء نه وه ذکرکړے اوس په دے سورة کښ دَموسیٰ(علیه السلام) دَ ولادت دَ حال نه شروع کوی۔ دریمه وجه داچه دَ هغے سورة په آخرکښ سَيُرِيْكُمْ اٰيٰتِهٖ ئے فرمائیلے وؤنوپه دے سورة کښ دَ هغه اٰیاتونونه واقعه دَ هلاکت دَ فرعونیانوذکرکوی۔

دعویٰ دَ دے سورة: داده تسلی ده اهل حق ته په کامیابئے سره روستودَ تیروَلودَمصیبتونونه په دعوت دَ توحید کښ اودَ دے دپاره مثال نعمتونه دی په بنی اسرائیلوباندے اوعذابونه دی په دشمنانوباندے یعنی فرعون، هامان اوقارون اوپه سورة کښ اثبات دَ توحید دے په عقلی دلیلونوسره اوپه رد دَ درے اقساموَدَ شرك سره چه شرك فی العلم اوفی التصرف اوفی الدعاء دے۔

خلاصه دَ دے سورة: داسورة تقسیم دے درے بابونوته اول باب تر(٤٤) پورے دے په دے کښ اول ترغیب دے قرآن ته بیا دعویٰ دَ سورة ده۔ بیا اجمال دَ قصے دَموسیٰ(علیه السلام) دے په ذکردَپنځه نعمتونوسره په بنی اسرائیلوباندے اوذکردَ نعمت په فرعونیانوباندے دَ وجے دَ شپږ ظلمونونه بیا قصه دَ موسیٰ(علیه السلام) چه تقسیم ده پنځه مقاماتوته۔

تفسیر

[۱] دادَ مقطعاتونه دے دَپاره دَ تنبیه په اعجاز دَ قرآن کریم باندے۔

[۲] دا ترغیب دے قرآن کریم ته او ﴿الْمُبِيْنِ﴾ کښ اشاره ده چه په دے سورة کښ تفصیل دَ واقعے دَ موسیٰ(علیه السلام) دے۔

[۳] دا دعویٰ دَسورة ده یعنی تسلی ده نبی(ﷺ) اومؤمنانوته یعنی په واقعه دَموسیٰ(علیه السلام) اودَ فوعون کښ مؤمنانودپاره فائدے اوبشارت اوتسلی ده چه تکبر اولوئي اوډیروالے دَ مال اوجاه دَ عذاب نه بچ کول نشی

نِسَآءَهُمْ ؕ اِنَّهٗ كَانَ مِنَ الْمُفْسِدِيْنَ ۝٤ وَنُرِيْدُ اَنْ نَّمُنَّ عَلَى الَّذِيْنَ اسْتُضْعِفُوْا فِى الْاَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ
اَئِمَّةً وَّنَجْعَلَهُمُ الْوٰرِثِيْنَ ۝٥ وَنُمَكِّنَ لَهُمْ فِى الْاَرْضِ وَنُرِىَ فِرْعَوْنَ وَهَامٰنَ وَجُنُوْدَهُمَا مِنْهُمْ مَّا كَانُوْا
يَحْذَرُوْنَ ۝٦ وَاَوْحَيْنَآ اِلٰٓى اُمِّ مُوْسٰٓى اَنْ اَرْضِعِيْهِ ۚ فَاِذَا خِفْتِ عَلَيْهِ فَاَلْقِيْهِ فِى الْيَمِّ وَلَا تَخَافِىْ وَلَا تَحْزَنِىْ ۚ اِنَّا
رَآدُّوْهُ اِلَيْكِ وَجَاعِلُوْهُ مِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ۝٧ فَالْتَقَطَهٗٓ اٰلُ فِرْعَوْنَ لِيَكُوْنَ لَهُمْ عَدُوًّا وَّحَزَنًا ؕ اِنَّ فِرْعَوْنَ

زنانه دَ هغوی یقیناً دے وؤ دَ فساد کوونکو نه (٤) اومونږ غوښتل چه احسان اوکړو په هغه کسانو باندے چه کمزوری کړے شوی وؤ په ملك کښ اوجوړ کړو مونږ دوی لره مشران دَ دین اوجوړ کړو دوی لره وارثان دَ زمکے (٥) اوچه طاقت ورکړو دوی لره په ملك کښ او اوخایُو فرعون او هامان او لښکرو دَ هغوی ته دَ طرف دَ بنی اسرائیلو نه هغه شے چه دوی ترے نه ویره کوله (٦) او خودنه اوکړه مونږ مور دَ موسیٰ(علیه السلام) ته چه پیځ ورکوه دهٔ لره پس هر کله چه اویریږے په دهٔ باندے نو واچوه دهٔ لره په دریاب کښ اومه ویریږه (دَ دهٔ دَمړ کیدلونه) اومه خفه کیږه (دَ دهٔ په جدائے باندے) یقیناً واپس راګرځوؤ دهٔ لره تاته او جوړ وؤ دهٔ لره دَ پیغمبرانونه (٧) پس را اوچت کړو دهٔ لره کورنئے دَ فرعون (عاقبت دا) چه شی دوی لره دشمن او غم یقیناً فرعون

کولے اوحق پرستوباندے مصیبتونه راځی اوالله تعالیٰ به کامیابی ورکوی۔

[٤] په دے ایت کښ دَفرعونیانوشپږجرمونه ئے ذکرکړی دی ﴿عَلَا فِي الْاَرْضِ﴾ تکبرپه دعویٰ دَربوبیت اودَ الوهیت سره ﴿شِيَعًا﴾داسے ډلے چه هغوی دَیوبل سره تعصب اوضدکوی اودارنګ بعضوله عزت اواقتدارکښ حصه ورکړی اودَ بعضونه خدمتونه اخستل﴿يُذَبِّحُ اَبْنَآءَ هُمْ﴾په دے کښ دواړه کرته داخل دی یعنی دَ سورة بقرة(٤٩)اودَسورة اعراف (١٢٧) ﴿الْمُفْسِدِيْنَ﴾مراد دادے چه دَکفراوشرك اشاعت اومدد ئے کولواودَتوحید اودَ تابعدارئے دَموسیٰ(علیه السلام) نه ئے خلق منع کول۔

[٥] دا ذکرد انعاماتودے په بنی اسرائیلوباندے په دے ایت کښ درے انعامات ذکرشوی دی اودیته انقلابی انعامات وئیلے کیږی اول داچه ضعف اوکمزوری دَ دوی بدلونی په قوت ورکولو سره، اوپه دے کښ هغه انعاماتوته اشاره ده کوم چه په سورة بقرة کښ ذکرکړے شوی دی دویم﴿وَنَجْعَلَهُمْ اَئِمَّةً﴾ مراد دَ دے نه دعوت کوونکی دی دین حق ته لکه سورة الم سجده(٢٤)کښ ذکردی اودیکښ اشاره ده چه په دین کښ مقتداجوړیدل لوے انعام الهی دے دریم﴿وَنَجْعَلَهُمُ الْوٰرِثِيْنَ﴾ دَ دے ذکرپه سورة اعراف (١٣٧)کښ تیرشویدے۔

[٦] په دے کښ دوه انعامات دی اول داچه علاوه دَ وراثت دَ مصرنه نورروملکونوکښ قدرت ورکول لکه چه په زمکه دَ شام کښ ئے هم دوی ته تسلط ورکړودویم نُرِیَ آه﴿مَا كَانُوْا يَحْذَرُوْنَ﴾ چه هغه زوال دَ بادشاهئی دَ فرعون دے په سبب دَ یوولد دَبنی اسرائیلوچه هغه دوی ته په ذریعه دَ بنی اسرائیلویا په خوب دَ فرعون سره معلوم شوے وؤ اوفرعون دَ هغے ویرے نه ذبح دَ ابناؤدَ بنی اسرائیلوکوله۔

[٧] دَ دے ایت نه تفصیل دَ قصے دَ موسیٰ(علیه السلام) دے اودَ دے نه مقام اول دے تر(١٤) پورے، په دے کښ

وَهَامٰنَ وَجُنُوْدَهُمَا كَانُوْا خٰطِـِٕيْنَ ۝٨ وَقَالَتِ امْرَاَتُ فِرْعَوْنَ قُرَّتُ عَيْنٍ لِّيْ وَلَكَ ؕ لَا تَقْتُلُوْهُ ۖ عَسٰۤى
اَنْ يَّنْفَعَنَاۤ اَوْ نَتَّخِذَهٗ وَلَدًا وَّهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ۝٩ وَاَصْبَحَ فُؤَادُ اُمِّ مُوْسٰى فٰرِغًا ؕ اِنْ كَادَتْ لَتُبْدِيْ بِهٖ
لَوْلَاۤ اَنْ رَّبَطْنَا عَلٰى قَلْبِهَا لِتَكُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ۝١٠ وَقَالَتْ لِاُخْتِهٖ قُصِّيْهِ ۚ فَبَصُرَتْ بِهٖ عَنْ جُنُبٍ

او هامان او لښکرې ډ هغے دواړو وؤ دوی خطاکار (٨) او اُوئیل ښځے ډ فرعون یخ والے ډ سترګو زما او ستا دے مه وژنه دهٔ لره کیدیشی چه نفع راکړی مونږ ته یا به ئے اونیسو ډ ځوئي په ځائے باندے او دوی نه پوهیدل (٩) او صباله شو زړه ډ مور ډ موسیٰ(علیه السلام) اوزګار ډ هرڅه نه (سیوا ډ فکر ډبجی نه) یقیناً نزدے وه چه حال ئے ډهغه ښکاره کړے وے که چرے ترون نه وے راوستلے مونږ په زړه ډ هغے باندے دپاره ډ دے چه شی ډ ایمان والو نه (١٠) او اُوئیل دے خور ډ هغه ته لاړه شه ورپسے نو کتل هغے دهٔ ته ډ لرے نه

ذکرډ مصیبت دے په موردډ موسیٰ(علیه السلام) باندے سرهٔ ډ بشارتونواو کرامتونونه اوسبب ډ رسیدلودَ موسیٰ(علیه السلام) دے ډ فرعون کورته اوبیا ډ مورغیږے ته اودا احوال ډصغر(وړوکوالی) دی په دے ایت (٧) کښ دوه اوامر اودوه نواهی اودوه بشارتونه ذکردی اودا ډ قرآن لوئے فصاحت اوبلاغت دے او وحی نه مراد الهام دے په طریقه غائبانه سره یا په واسطه ډ فرښتے سره اودیته کرامت وئیلے کیدیشی اوپه دے کښ ذکرډ مصیبت دے سرهٔ ډ بشارت نه۔

[٨] په دے ایت کښ اشاره ده چه بعض وخت کښ عمل ډ شخص ډ ضرردپاره سبب اوګرځی۔ ﴿لِيَكُوْنَ﴾ دے ته لام عاقبت وئیلے کیږی﴿خٰطِـِٕيْنَ﴾ خطا شویوؤ په تربیت ډ موسیٰ(علیه السلام) کښ یا مشرکان اوګنهګاران وؤاوپه دے ایت کښ مصیبت ظاهراً ذکرشو ځکه چه ډ موسیٰ(علیه السلام) کوردډ فرعون ته ورتلل ظاهراً سبب ډ خفګان ډ مور وؤ۔

[٩] دا نعمت ډ اللّٰه تعالیٰ دے ډ مصیبت نه نجات اوحفاظت ډ موسیٰ(علیه السلام) یعنی اللّٰه تعالیٰ ډ موسیٰ(علیه السلام) حفاظت اوکړو په ذریعه ډ ښځے ډ فرعون سره او دغه ښځے امید ډ نفع کړے وؤ نو اللّٰه تعالیٰ هغے لره هدایت نصیب کړو په سبب ډ موسیٰ(علیه السلام) سره او ډ دے ښځے ذکرپه سورة تحریم (١١) کښ شته دے۔ ﴿اَوْ نَتَّخِذَهٗ وَلَدًا﴾ اشاره ده چه ډ دے ښځے ولدنه وؤ لیکن ډ دے وجے نه چه فرعون کښ مردانیت نه وؤ نو ځکه هغه چپ پاتے شو﴿وَهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ﴾ داکلام مستقل رد دے په فرعونیانو باندے چه دوی موسیٰ(علیه السلام) دغه وخت نه پیژندلو، یاداکلام ډښځے دے یعنی مونږبه دے په پته طریقه ډځان ډپاره ولد اوګرځوو اونورو خلقو ته به معلومه نه وی هغوی به خیال کوی چه دے واقعی ډ دوی ولد دے۔

[١٠] په دے ایت کښ ذکرډ مصیبت دے په مور ډ موسیٰ(علیه السلام) باندے لیکن سرهٔ ډ نعمت نه په طریقه ډکرامت ډ هغے ،ځکه ربط القلب ډ داسے مصیبت په وخت ډ اللّٰه تعالیٰ ډ طرف نه کرامت اونعمت دے او داسے ربط القلب په اصحاب کهف باندے هم وؤسورة کهف (١٤)﴿مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ﴾ مراد ډ دے هغه ځوک چه په وخت ډ مصیبت اوابتلاء کښ هم په ایمان باندے پوخ وی اودَ اللّٰه تعالیٰ په وعدوباندے یقین لری۔

وَّهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿١١﴾ وَحَرَّمْنَا عَلَيْهِ الْمَرَاضِعَ مِنْ قَبْلُ فَقَالَتْ هَلْ اَدُلُّكُمْ عَلٰٓى اَهْلِ بَيْتٍ يَّكْفُلُوْنَهٗ
لَكُمْ وَهُمْ لَهٗ نٰصِحُوْنَ ﴿١٢﴾ فَرَدَدْنٰهُ اِلٰٓى اُمِّهٖ كَيْ تَقَرَّ عَيْنُهَا وَلَا تَحْزَنَ وَلِتَعْلَمَ اَنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ وَّلٰكِنَّ
اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿١٣﴾ وَلَمَّا بَلَغَ اَشُدَّهٗ وَاسْتَوٰٓى اٰتَيْنٰهُ حُكْمًا وَّعِلْمًا ؕ وَكَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ ﴿١٤﴾ ع

او دوی نه پوهیدل (۱۱) اومنع کړے وؤ مونږ په دهٔ باندے پیځ ورکوؤنکے مخکښ دَ دے نه نو اُوئیل (خوردَ دهٔ) ایا اوخایم تاسو ته یو کور والا چه پالنه کوی به دَ دهٔ ستاسو فائدے دپاره او دوی به دَ دهٔ خیر خواه وی (۱۲) نو واپس کړو مونږ دهٔ لره مور دَ دهٔ ته دپاره چه یخے شی سترګے دَ دے اونه خفه کیږی او دے دپاره چه یقین اوکړی چه یقیناً وعده دَ اللّٰه تعالیٰ رشتیا ده اولیکن ډیر خلق نه پوهیږی (۱۳) او هرکله چه اورسیدو ځوانیځ خپلے ته اوبرابر شو ورکړو مونږ دهٔ ته فرق دَ حق اوباطل اوپوهه دَ دین اودغسے بدله ورکوؤ مونږ خائسته عمل کؤونکوته (۱٤)

[۱۱] هرکله چه موردَ موسیٰ علیه السلام ته معلومه شوه چه موسیٰ علیه السلام دَ فرعون کورته تلے دے لیکن زړه دَ دے مضبوط وؤ او نور حال معلومولو دپاره ئے خور دَ موسیٰ علیه السلام دَفرعون کورته اولیږله هغه هم هوښیاره وه ځکه چه موسیٰ علیه السلام ته نزدے نه راتلله دپاره دَ دے چه څوك شك اونکړی چه دا دَ دهٔ خور ده نو دَ دے وجے دَ لرے نه ئے کتل۔

[۱۲] داځسنِ تدبیردَ اللّٰه تعالیٰ دے دپاره دَ واپس کولودَ موسیٰ علیه السلام خپلے مورته ﴿حَرَّمْنَا﴾ دا تحریم لغوی دے په معنیٰ دَ منع سره ځکه چه په دغه عمرکښ تحریم شرعی ممکن نه دے ﴿وَهُمْ لَهٗ نٰصِحُوْنَ﴾ وئیلے شویدی چه فرعونیانوپه دے باندے اعتراض اوکړو چه دَ دے نه معلومه شوه چه ته دَ دے بچی مور پیژنے، نودے ورته جواب کښ اوئیل چه لَهٗ ضمیراهل بیت ته راجع نه دے په دلیل دَ لَكُمْ سره بلکه فرعون ته راجع دے نوهغوی چپ شول۔

[۱۳] دا نعمت دَ اللّٰه تعالیٰ دے روستو دَ صبرکولونه په مصیبت باندے ﴿اَنَّ وَعْدَ اللّٰهِ﴾ دَ دے نه مراد هغه وعده ده چه په (۷)کښ ذکرشویده ﴿لَا يَعْلَمُوْنَ﴾ یعنی نه پوهیږی په ښه عاقبت دَصبرپه مصیبت باندے نوانتظاردَ نعمت نه کوی۔ اوبے صبری کوی۔

فائده: مفسرینو لیکلی دی چه فرعون دَ موردَ موسیٰ علیه السلام دپاره یودینار (اشرفئ) دَ ورځے مقررکړله اودا هغے لره دَ مال فئ په صفت سره جائزوه۔

[۱٤] دَ دے آیت نه دویم مقام دے تر(۲۲) پورے په دے کښ مصائب او احوال دَ ځوانیځ دَموسیٰ علیه السلام دی یعنی مصیبت دَ قتل دَقبطی۔ تضرّع اللّٰه تعالیٰ ته تعبُّداً، اواتفاق دَ فرعونیانوپه قتل دَ موسیٰ علیه السلام اوهجرت مدین ته۔ په دے آیت (۱٤)کښ انعام په موسیٰ علیه السلام قبل النبوت ذکردے ﴿حُكْمًا﴾ پوهه په احکام دنیویه کښ﴿عِلْمًا﴾ پوهه دَ احکام اخرویه ﴿كَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ﴾ تشبیه دَ احوالودَ موردَ موسیٰ علیه السلام سره ده څرنګ چه موردَ هغه عمل اوکړوپه امردَ اللّٰه تعالیٰ اوپه مصیبت کښ ئے صبر اوکړونو بیاخوشحاله کړے شوه۔ دغسے هرمحسن لره بدله ملاویږی یا تشبیه دَ حال دَ موسیٰ علیه السلام چه چا لره اللّٰه تعالیٰ په ورڅوکوالی کښ په طریقه دَخرق عادت اوساتی نوهغه ته اللّٰه تعالیٰ دَ دین پوهه اوذمه داری

وَدَخَلَ الْمَدِيْنَةَ عَلٰى حِيْنِ غَفْلَةٍ مِّنْ اَهْلِهَا فَوَجَدَ فِيْهَا رَجُلَيْنِ يَقْتَتِلٰنِ ۖ هٰذَا مِنْ شِيْعَتِهٖ وَهٰذَا
مِنْ عَدُوِّهٖ ۚ فَاسْتَغَاثَهُ الَّذِيْ مِنْ شِيْعَتِهٖ عَلَى الَّذِيْ مِنْ عَدُوِّهٖ ۙ فَوَكَزَهٗ مُوْسٰى فَقَضٰى عَلَيْهِ ۖ قَالَ
هٰذَا مِنْ عَمَلِ الشَّيْطٰنِ ۖ اِنَّهٗ عَدُوٌّ مُّضِلٌّ مُّبِيْنٌ ۝۱۵ قَالَ رَبِّ اِنِّيْ ظَلَمْتُ نَفْسِيْ فَاغْفِرْ لِيْ فَغَفَرَ لَهٗ ۖ اِنَّهٗ
هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ۝۱۶ قَالَ رَبِّ بِمَآ اَنْعَمْتَ عَلَيَّ فَلَنْ اَكُوْنَ ظَهِيْرًا لِّلْمُجْرِمِيْنَ ۝۱۷ فَاَصْبَحَ فِي الْمَدِيْنَةِ

او داخل شو دے بنار ته په وخت دَ غفلت دَ اوسیدونکو دَ هغے کښ نو اومندلو دهٔ په هغے کښ دوه سړی جنګ ئے کوؤ دا یو دَ قبیلے دَ موسیٰ(علیه السلام) نه وؤ او دابل دَ (دِلے) دَ دُشمن دَ دهٔ نه وؤ پس مدد اوغوښتلو دَ دهٔ نه هغه سړی چه دَ قبیلے دَ دهٔ نه وؤ په مقابله دَ هغه سړی کښ چه دَ دُشمن دَ دهٔ نه وؤ نو په موکه اووهو دهٔ لره موسیٰ(علیه السلام) ختم ئے کړو ژوند دَ هغه اُوئیل موسیٰ(علیه السلام) دا دَ عمل دَ شیطان نه دے یقیناً دے دُشمن ګمراه کوؤنکے ښکاره دے (۱۵) اُوئیل هغه اے ربه زما یقیناً ما ظلم کړے دے په ځان خپل باندے نو بخښنه اوکړے ماته نو بخښنه ئے اوکړه هغه ته یقیناً اللّٰه تعالیٰ بخښنه کوؤنکے رحم کوؤنکے دے (۱۶) اُوئیل دهٔ اے ربه زما په وجه دَ انعام کولوستا په ما باندے پس هیڅرے به نه شم ځه مددګار دَ مجرمانو (۱۷) پس صبا کړو موسیٰ(علیه السلام) په بنار کښ

ورکوی نواشاره شوه حال دَ خاتم النبین ﷺ ته۔

[۱۵] هرکله چه موسیٰ علیه السلام دَ دین دَ فرعون نه نفرت کوؤ نوهغوی سره ئے تعلق نه لرلوبلکه دَ هغوی نه جدا به ګرځیدلو دَدے وجے نه بنارته دَ غرمے په وخت کښ یوضرورت دَپاره داخل شوپه دغه وخت عام خلق اودهٔ وواولفظ دَ علی دلیل دے چه دَ غفلت وخت دَ دهٔ مقصد وؤ ﴿فَاسْتَغَاثَهُ﴾ وئیلے شویدی چه قبطی (چه دَ قوم دَ فرعون نه وؤ) په اسرائیلی باندے په ظلم سره ګیلهٔ دَخشاك دَفرعون مطبخ ته اوړل غوښتل اوهغه طاقت نه لرلو ﴿فَوَكَزَهٗ مُوْسٰى﴾ امدادکول دَمظلوم په ټولودینونو کښ ضروری دی نوموسیٰ علیه السلام دَ دغه ظالم دَ دفع کولودپاره هغه په سینه کښ په موکه باندے اوهلوارادہ دَ قتل ئے نه وه کړے لیکن هغه اسرائیلی نه په آسانه طریقه نه جداکیدلوپه غیردَ مُکّے وهلونه ﴿فَقَضٰى عَلَيْهِ﴾ دَ هغه کارئے پوره کړوداپه عرف کښ کنایه ده دَ مرګ نه یا ضمیراللّٰه تعالیٰ ته راجع دے معنیٰ دا چه فیصله اوکړه اللّٰه تعالیٰ په هغه باندے دَمرګ ﴿هٰذَا مِنْ عَمَلِ الشَّيْطٰنِ﴾بعضوخلقودلیل نیولے دے چه داګناه وؤځکه چه نسبت ئے شیطان ته کړے دے۔ اول جواب دا دے چه نسبت شیطان ته مستلزم دَګناه نه دے لکه چه فتیٰ دَ موسیٰ علیه السلام نسیان دَمهی شیطان ته نسبت کړے دے لیکن هرکله چه دَ داسے کار په نتیجه باندے (چه تکلیف دے) شیطان خوشحالیږی دَ دے وجے نه هغه ته نسبت کیږی۔ دویم جواب دا دے چه هذا اشاره ده دغه مقتول ته اوعمل لښکرته وئیلے کیږی۔ دریم داچه هرکله چه په دے کار کښ اذن دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرفه نه وؤځکه چه بغیر دَ وَکَز نه دَ هغهٔ دفع کول هم ممکن وؤنوخلاف اولے شونوموسیٰ علیه السلام دَ خوف الٰهی دَ وجے نه شیطان ته نسبت اوکړوپه منزله دَګناه ئے اوګنړلو۔

[۱۶] روستودَ ښیمانه کیدلو نه تضرع ئے اللّٰه تعالیٰ ته اوکړله دَ بندګئے دَ اظهارپه طریقے سره۔ بعض خلقودلیل نیولے دے چه ظَلَمْتُ نَفْسِيْ فَاغْفِرْ لِيْ، دلالت کوی چه داعمل دَ موسیٰ علیه السلام ګناه وؤ، جواب دا دے

خَآئِفًا يَّتَرَقَّبُ فَاِذَا الَّذِی اسْتَنْصَرَهٗ بِالْاَمْسِ يَسْتَصْرِخُهٗ ؕ قَالَ لَهٗ مُوْسٰٓی اِنَّكَ لَغَوِیٌّ مُّبِیْنٌ ﴿۱۸﴾
فَلَمَّآ اَنْ اَرَادَ اَنْ يَّبْطِشَ بِالَّذِیْ هُوَ عَدُوٌّ لَّهُمَا ۙ قَالَ يٰمُوْسٰٓی اَتُرِيْدُ اَنْ تَقْتُلَنِیْ كَمَا قَتَلْتَ نَفْسًۢا
بِالْاَمْسِ ۖ اِنْ تُرِيْدُ اِلَّآ اَنْ تَكُوْنَ جَبَّارًا فِی الْاَرْضِ وَمَا تُرِيْدُ اَنْ تَكُوْنَ مِنَ الْمُصْلِحِيْنَ ﴿۱۹﴾ وَجَآءَ

ویره کوؤنکے انتظار ئے کوؤ نو ناکهه هغه کس چه مدد ئے دَ دهٔ نه غوښتلے وؤ پرون ورځ چغے ئے وهلے دهٔ ته اُوئیل دهٔ ته موسیٰ(علیه السلام) یقیناً ته خامخا سرکش بنکاره ئے (۱۸) پس هر کله چه قصد اوکړو چه را اونیسی هغه کس چه هغه دُشمن دَ دواړو دے اُوئیل هغه اے موسیٰ(علیه السلام) ایا ته غواړے چه ماقتل کړے لکه چه تا قتل کړے یوتن پرون ورځ نه غواړے ته مګر چه شے ته زورآوری کوؤنکے په دے ملك کښ اونه غواړے چه شے ته دَ اصلاح کوؤنکو نه (۱۹) او راغے

چه په قاعده دَحسنات الابرارسیئات المقربین سره دغه عمل چه خلاف اولی وؤ ګناه نه وؤ لیکن موسیٰ(علیه السلام) دَ هغے نه تعبیرپه ظلم سره اوکړو اودَ هغے ئے مغفرت طلب کړو لفظ دَظلم اوطلب دَمغفرت مستلزم دَګناه نه دے بلکه داسے الفاظ تعبُّداً استعمالیږی لکه چه نبی(صلی الله علیه وسلم) ابوبکرصدیق(رضی الله عنه) ته داسے دُعاخودلے ده اللهم انی ظلمت نفسی ظلماکثیراً فاغفرلی مغفرة (ترآخره پورے) ﴿فَغَفَرَلَهٗ﴾ په طریقه دَ اِلهام (چه قبل دَ نبوت نه پیغمبرانوته معلومیږی) ورته معلومه شوه۔

[۱۷] په دے کښ دوه قولونه دی اول قول دا دے چه دا جمله خبریه ده او وعده ده په آئنده زمانه کښ په دے کښ بیا دوه توجیه دی اوله توجیه ، چه دا اسرائیلی مِن وجه مجرم وؤدَ دهٔ امداد ما اوکړو لیکن آئنده دپاره دَ داسے مجرمانو امداد نکؤم ۔ دویمه توجیه دا ده چه اوس خو دَ دے مظلوم په امداد کښ ځما نه قتل اوکړیشو خو تا را باندے انعام دَ مغفرت اوکړو نو دارنګ آئنده دپاره به هم دَ هیڅ مجرم امدادنه کوؤم بلکه دَ مظلوم مدد به کوؤم۔ دویم قول دا دے چه دا دعا ده او انعام دَ مغفرت او نور نعمتونه ئے وسیله اوګرځوله چه دَدے په وسیله سره ما آئنده دپاره دَ مجرمانو دَ امداد نه بچ اوساتے ۔ دَ عطاء(رحمه الله) نه روایت دے چه حلال نه دی چه څوك دے دَ ظالم سره مدد کوی اونه دے دَ هغه دپاره کاتب (منشی) وی اونه دے دَ هغه ملګرتیا کوی تفسیر قرطبی کښ تفصیل نقل کړیدے۔

[۱۸] داسے خوف دَ صالحینواوانبیاء دَ شان نه څه بعیده نه ده ﴿يَتَرَقَّبُ﴾ انتظار ئے کوؤچه اوس به څه دَ فرعون دربار کښ طلب کړے شم یا دا معنیٰ چه حالات ئے معلومول ﴿يَسْتَصْرِخُهٗ﴾ په دے لفظ کښ اشاره ده چه دَ دے سړی فریاد دَ پرونی سړی نه زیات وؤځکه چه هغه صرف دَ مدد دَطلب دَ پاره آواز کړے وؤ اونن دے سړی چغے اُوهلے ﴿قَالَ لَهٗ مُوْسٰٓی﴾ راجح دا ده چه ضمیردَ لَهٗ راجع دے اسرائیلی ته ﴿لَغَوِیٌّ مُّبِیْنٌ﴾ دَ دے وجے نه چه ته بے طاقته ئے اوبیا هم هره ورځ دَ زورور سره جنګونه کوے اودَ هغوی امرنه منے یا دَ دے وجے نه چه ستاپه وجه پرون ځما دَ لاسه سړے قتل شو۔ اودویمه توجیه دا ده چه ضمیرقبطی ظالم ته راجع دے۔

[۱۹] په دے کښ دوه احتمالونه دی اول داچه بالذی عدولهما مراد اسرائیلی دے چه پرونی قبطی اودَنننی قبطی دواړو دشمن دے نودے اسرائیلی ګمان اوکړو چه نن مالره قتل کوی نودَ پرونی حال ئے بنکاره کړو۔

رَجُلٌ مِّنْ اَقْصَا الْمَدِيْنَةِ يَسْعٰى ۫ قَالَ يٰمُوْسٰٓى اِنَّ الْمَلَاَ يَاْتَمِرُوْنَ بِكَ لِيَقْتُلُوْكَ فَاخْرُجْ اِنِّيْ لَكَ مِنَ
النّٰصِحِيْنَ ﴿۲۰﴾ فَخَرَجَ مِنْهَا خَآئِفًا يَّتَرَقَّبُ ۫ قَالَ رَبِّ نَجِّنِيْ مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۲۱﴾ ع وَلَمَّا تَوَجَّهَ تِلْقَآءَ مَدْيَنَ ۵۵
قَالَ عَسٰى رَبِّيْٓ اَنْ يَّهْدِيَنِيْ سَوَآءَ السَّبِيْلِ ﴿۲۲﴾ وَلَمَّا وَرَدَ مَآءَ مَدْيَنَ وَجَدَ عَلَيْهِ اُمَّةً مِّنَ النَّاسِ يَسْقُوْنَ ۙ وَ

یو نارینه دَ لرے طرف دَ بنار نه منلے وهلے اُوئیل ئے اے موسیٰ(علیه السلام) یقیناً مشران دَ مصر حرکه کوی ستا په باره کښ چه قتل کړی تالره نو اوئخه یقیناً ئخه تالره دَ خیرخواهونه یم (۲۰) نو اُوتلو دَ هغے نه ویره کوؤنکے انتظار ئے کوؤ اُوئیل دهٔ اے ربه زما بچ کړے ما لره دَ قوم دَ ظالمانو نه (۲۱) او هر کله چه مخ ئے کړو طرف دَ مدین ته اُوئیل دهٔ امید دے چه رب زما به روان کړی ما لره په برابر لار (دَ مدین)(۲۲) او هر کله چه اورسیدو اوبو (کوهی) دَ مدین ته اومند له دهٔ دَ هغے په خواکښ یو ډله دَ خلقونه اوبه کول ئے ځاروی او

دویم احتمال دا دے چه مراد دَ دے نه قبطی دے چه دشمن دے دَ موسیٰ(علیه السلام) اودَ دے اسرائیلی، اوهغه په طریقه دَ ګمان سره اُوئیل چه پرونے سړے به هم تا قتل کړے وی اوموسیٰ په دے عمل کښ احتیاط اوکړو چه دَ وکزیه ځائے نن بطش اوکړو ځکه چه حدیث صحیح کښ راځی چه مؤمن دَیوسوری نه دوه کرته نه چیچلے کیږی ﴿جَبَّارًا﴾ هغه ځوك دے چه دَ ځان دپاسه دَ هیڅا قانون نه منی ﴿مِنَ الْمُصْلِحِيْنَ﴾ اول صفت ثبوتی او دویم صفت سلبی ذکرکړیدے دپاره دَ ډیرے مبالغے کولو۔

[۲۰] هرکله چه دَ دغه قبطی یقین راغے چه پرون قتل موسیٰ(علیه السلام) کړیدے نوخبرئے فرعون ته اورسوؤنودَ هغه ارکانِ شوریٰ دَ موسیٰ دَ قتل په باره کښ اتفاقی فیصله اوکړله هغه خبره مشهوره شوه نورجل مؤمن (چه نوم ئے حزقیل یا شمعون یا شمعان وؤ) موسیٰ(علیه السلام) ته په تادئے سره خبر راؤړو۔ اوهغه ته ئے دَ خیر مشوره ورکړه، مسلمان باندے دَ بل مسلمان حفاظت دَ مال او دَ دَم واجب دے اودے ته نصیحت وئیلے کیږی اودغسے په سورۃ یٰس (۲۰) کښ دی او وجه دَ فرق هلته بیا نیږی۔

[۲۱] عمل کول په خبرِ دَ یوشخص عادل باندے جائزدی۔ اوهرکله چه ورسره قرینے دَ صدق موجود وی بیاخوپه هغے باندے عمل کول ضروری وی۔ دلته هم موسیٰ(علیه السلام) ته معلومه شویوه چه دا خبر خور شو اوداخلق به ماوژنی اوخبرِ دَ دغه شخص صادق هم ورسره ملګرے شونوموسیٰ(علیه السلام) دَ دے وجے نه فی الحال عمل اوکړو اوخوف ئے ځکه کوؤچه خبر رشتینے وؤ اودَ عمل شروع کولواوسفرکولو سره دُعاهم پکار ده اوداهجرت دَ موسیٰ(علیه السلام) دَ ظالم قوم نه دَپاره دَحفاظت دَ ځان دے اودا هم سنت دَ انبیاء علیهم السلام دے۔

[۲۲] دَ دے آیت نه دریم مقام دے تر(۲۹) پورے په دے کښ تکالیف په موسیٰ(علیه السلام) باندے په سفرِ دَ مدین کښ بغیرِ دَ توښے نه اواوګی کیدل دَ هغه اوسرهٔ دَ دینه دَکمزورو خلقوسره امداد کول، بیا خپل ځان مزدور کول، دا ټول ذکردی، او ورسره نعمت هم ذکردے نکاح دَ یورجل صالح دَ لورسره اوسبب دَ حلال رزق موندل دی۔ په دے آیت (۲۲)کښ دَ سفرِدَموسیٰ(علیه السلام) ابتداء ده اواسباب دَسفرورسره نیشته اولار دَمدین هم ورته نه ده معلومه اومسافت هم اته ورځے وؤلیکن صرف په توکل دَ اللّٰه تعالیٰ باندے روان شویدے دا اعلیٰ درجه توکل دے۔ موسیٰ(علیه السلام) ته معلومه وه چه مدین دَ فرعون دَ تسلط نه بهردے بل داچه

وَجَدَ مِنْ دُوْنِهِمُ امْرَاَتَيْنِ تَذُوْدٰنِ ۚ قَالَ مَا خَطْبُكُمَا ؕ قَالَتَا لَا نَسْقِيْ حَتّٰى يُصْدِرَ الرِّعَآءُ ؕ وَاَبُوْنَا شَيْخٌ
كَبِيْرٌ ﴿۲۳﴾ فَسَقٰى لَهُمَا ثُمَّ تَوَلّٰۤى اِلَى الظِّلِّ فَقَالَ رَبِّ اِنِّيْ لِمَاۤ اَنْزَلْتَ اِلَيَّ مِنْ خَيْرٍ فَقِيْرٌ ﴿۲۴﴾ فَجَآءَتْهُ اِحْدٰىهُمَا
تَمْشِيْ عَلَى اسْتِحْيَآءٍ ۫ قَالَتْ اِنَّ اَبِيْ يَدْعُوْكَ لِيَجْزِيَكَ اَجْرَ مَا سَقَيْتَ لَنَا ؕ فَلَمَّا جَآءَهٗ وَقَصَّ عَلَيْهِ

اومُندلے ئے دَ هغوی نه بیر ته دوه زنانه چه منع کول ئے څاروی دَ اوبونه اُوئیل دهٔ څه کار دے ستاسو اُوئیل دوی اوبه کول نه کوؤ مونږ ترهغے پورے چه واپس لاړ شی شپونکی او پلار زمونږ بوډا زوړ دے (۲۳) نو اوبه ئے کړل دوی لره (څاروی) بیا په ډه شو سوری ته نو اُوئیل ئے اے ربه زما یقیناً څه هغے څه ته چه ته ئے رالیږے ماته دَ خوراك نه محتاج یم (۲٤) پس راغله دهٔ ته یوه زنانه دَ هغه دواړو نه پیاده راتلله په ډیره حیاء باندے اُوئیل هغے یقیناً زما پلار رابلی تا لره دے دپاره چه بدله درکړی بدله دَ هغے چه تا اوبه کول کړیدی زمونږ دپاره پس هر کله چه راغے هغه تهٔ اوبیان ئے کړو په هغه

مدین دَ ابراهیم علیه السلام دَ اولاد نه وؤدَ هغه په نوم دا ښارجوړشوے وؤدَ هغه اولاد پکښ اوسیدل نوموسیٰ علیه السلام دَ نسبی اشتراك اودَ نبوت دَکورنئ په وجه سره دَ دے ښارسفرغوره کړو ﴿اَنْ يَّهْدِيَنِيْ﴾ مخکښ ایت کښ دعا دَ نجات وه اوپه دے کښ دعا دَمقصد حاصلولو ده۔

[۲۳] ﴿وَرَدَ﴾ ورود په معنیٰ دَ وصول راځی اوکله په معنیٰ دَ دخول راځی دلته اوله معنیٰ مراد ده ﴿مَآءَ مَدْيَنَ﴾ دَمدین نه بهرکوهے دَ اوبو وؤچه په هغے باندے لویه بوقه وه چه هغه به لس کسانو راویستلے شوه اودَ هغے نه به ئے څپل څاروی اوبه کول ﴿وَوَجَدَ مِنْ دُوْنِهِمُ امْرَاَتَيْنِ تَذُوْدٰنِ﴾ یعنی موسیٰ علیه السلام تعجب اوکړوچه نارینه څپل څاروی اوبه کوی اووایس ځی اوزنانه په انتظارکښ حصارے دی بلکه تکلیف هم دا دے چه څاروی اوبوته زورکوی او دوی ئے منع کوی۔ اودا حال دَ دغه خلقوپه بے غیرتئے یا بے مروتئے باندے دلیل وؤ۔ اودا ظلم ووپه زنانوباندے، دَ دے وجے نه موسیٰ علیه السلام دَهغوی نه په مَا خَطْبُكُمَا سره تپوس اوکړو څکه چه په دے لفظ سره تپوس کول خاص دی په ډیرمصیبت زده یا په لوئے کارکوؤنکوپورے اوپه دے کښ مقصد دَهغه دا وؤچه دَ دے مظلومانومدد اوکړی۔ دَ دوی دَ جواب خلاصه دا ده چه داخلق مونږ ته اوبه نه راکوی خوچه دَ دوی نه روستوکومے اوبه پاتے شی په هغے باندے مونږڅاروی اوبه کوؤاودَ دے قوم دَمخالفت دَ وجے نه څوك مونږسره مزدوری یا امدادنه کوی اوپلار زمونږ بوډاکمزوړے دے نومونږدا څاروی په مجبورے باندے صحراء ته راولو ﴿وَ اَبُوْنَا شَيْخٌ كَبِيْرٌ﴾ په دے سره ئے دَ اعتراض جواب اوکړو که څوك اوائی چه پیغمبرپه خپلولونړو باندے ولے څاروی سره وی۔

[۲٤] هرکله چه دَمظلومانوسره امدادکول دَ موسیٰ علیه السلام عادت دے نودَ دوی سره ئے هم امداد اوکړوپه موافق دَ روایت دَ مفسرینوسره په هغه کوهی باندے بوقه وه دَ لس کسانودَ طاقت مناسب نو موسیٰ علیه السلام هغه په یواځے راویستله اودَ دے زنانو څاروی ئے اوبه کړل اودوی ته ئے دَ خپلے لوڅے هیڅ ذکر اونکړو څکه چه کاملان خلق خپل حاجتونه ظاهری هم مخلوق ته نه ښکاره کوی ﴿فَقِيْرٌ﴾ مراد دادے چه څه اوڅے یم اوله ربه ستادرته محتاج یم اوداهم تعریض دے په دعا سره صراحةً سوال هم نه دے اودا ادب دے په دعاګانودَ انبیاؤ کښ۔

الْقَصَصَ ۙ قَالَ لَا تَخَفْ ۫ نَجَوْتَ مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٢٥﴾ قَالَتْ اِحْدٰىهُمَا يٰۤاَبَتِ اسْتَاْجِرْهُ ۫ اِنَّ
خَيْرَ مَنِ اسْتَاْجَرْتَ الْقَوِيُّ الْاَمِيْنُ ﴿٢٦﴾ قَالَ اِنِّيْۤ اُرِيْدُ اَنْ اُنْكِحَكَ اِحْدَى ابْنَتَيَّ هٰتَيْنِ عَلٰۤى اَنْ تَاْجُرَنِيْ
ثَمٰنِيَ حِجَجٍ ۚ فَاِنْ اَتْمَمْتَ عَشْرًا فَمِنْ عِنْدِكَ ۚ وَمَاۤ اُرِيْدُ اَنْ اَشُقَّ عَلَيْكَ ؕ سَتَجِدُنِيْۤ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ

حالت پوره اُوئیل هغه مه ویریږه نجات دے اوموندلو دَ قوم ظالمانو نه (۲۵) اُوئیل یوے زنانه دَ هغے دواړونه اے پلاره زما په مزدورئ سره اونیسه دهٔ لره یقیناً غوره دَ هغه چا نه چه ته ئے په مزدورئے سره نیسے دا طاقت ور امانت دار دے (۲۶) اُوئیل هغه یقیناً څه غواړم چه په نکاح سره درکړم تاته یوه دَ دے دوه لونړو نه په دے شرط چه اخلے به زمانه بدله دَ کارکولو اته کاله پس که تاپوره کړل لس نو ستا دَ طرف نه به وی (احسان) او نه غواړم چه ډیر کړاؤ کیدم په تا باندے زر ده اوبه مومے ما لره که چرے اوغواړی اللّٰه تعالیٰ

[۲۵] هرکله چه زنانه دَ عام عادت نه مخکښ کورته واپس شوے نوپلارترینه تپوس اوکړونو دوی دغه حال تفصیلاً ذکر کړونوشعیب علیه السلام (چه دَ دوی پلاروؤ) په فراست سره معلومه کړه چه دا شخص دَ مدین اوسیدونکونه دے، اودَکمزورو سره مدد کوؤنکے شخص دے دَ دے وجے نه یولورئے ورپسے دَپاره دَ دعوت ورکولوور اولیږله ﴿اِحْدٰىهُمَا﴾ هرکله چه څاروی ډیروؤاودَکلی نه لرے بوتلل پکاروی نودَ هغے دَپاره دواړه زنانه ورتللے اوهرکله چه موسیٰ علیه السلام ته دعوت ورکول اسان اونزدے وؤنویوه زنانه ورپسے ئے اولیږله معلومه شوه چه نیکان خلق دَ زنانونه بغیردَسخت ضرورت نه کارنه اخلی اونه ئے بلا ضرورت بهرپریکدی ﴿عَلَى اسْتِحْيَآءٍ﴾ یعنی خپل بدن ئے پټ ساتلے دے اوپه رفتارکښ ئے نازاوکرشمے نه کولے لکه چه دَ بے حیا زنانوعادت دے﴿عَلَى﴾ لفظ دَتمکن دَپاره دے یعنی په حیاباندے کلکه وه ﴿لِيَجْزِيَكَ اَجْرَ مَا سَقَيْتَ لَنَا﴾داجمله دَ دعوت دَ قبلولودَتاکید دپاره ده۔ موسیٰ علیه السلام په دے اراده دعوت ندے قبول کړے ځکه چه مفسرقرطبی لیکلی دی چه شعیب علیه السلام هغه ته طعام پیش کړونوهغه انکاراوکړو اوئیل ئے مونږ داسے کورنئی یوچه خپل دین په ډکه زمکه سروزروسره هم نه خرڅوؤ هغهٔ ورته اُوئیل دا اجرت دَسقی نه دے بلکه عادت زمونږ میلمستیا ورکول دی نوهله موسیٰ علیه السلام خوراك اوکړو ﴿الظّٰلِمِيْنَ﴾ دَ دے نه مراد فرعونیان دی چه دَ هغوی حکومت په مدین کښ نه وؤ۔

[۲۶] دا دلیل دے چه دوی تراوسه پورے مناسب مزدورنه وؤموندلے اودلیل دے چه عقدِ اجاره په ټولودینونوکښ جائزعقد دے﴿الْقَوِيُّ الْاَمِيْنُ﴾ اشاره ده چه مزدورکښ دوه صفتونه پکاردی اول طاقت دَ هغه کاردویم امانت داری۔ دے زنانوپه موسیٰ علیه السلام کښ دا دواړه صفتونه لیدلی وؤقوت داوؤ چه دَ لس کسانودَ طاقت بوقه دهٔ یواځے راویستلے وه اوامانت دا وؤ چه موسیٰ علیه السلام هغه زنانه ته وئیلی وؤ(کومه چه دَ دعوت دپاره راغلے وه اودواړه واپس کورته راتلل) چه زمانه روستو راځه هسے نه چه په رفتارکښ ستا جامه دَ پنډونه اوچته شی او زما نظرپرے اولګی۔

مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿٢٧﴾ قَالَ ذٰلِكَ بَيْنِيْ وَبَيْنَكَ ط اَيَّمَا الْاَجَلَيْنِ قَضَيْتُ فَلَا عُدْوَانَ عَلَيَّ ط وَاللّٰهُ عَلٰى مَا
نَقُوْلُ وَكِيْلٌ ﴿٢٨﴾ فَلَمَّا قَضٰى مُوْسَى الْاَجَلَ وَسَارَ بِاَهْلِهٖٓ اٰنَسَ مِنْ جَانِبِ الطُّوْرِ نَارًا ج قَالَ لِاَهْلِهِ امْكُثُوْٓا ع ٦
اِنِّيْٓ اٰنَسْتُ نَارًا لَّعَلِّيْٓ اٰتِيْكُمْ مِّنْهَا بِخَبَرٍ اَوْ جَذْوَةٍ مِّنَ النَّارِ لَعَلَّكُمْ تَصْطَلُوْنَ ﴿٢٩﴾ فَلَمَّآ اَتٰىهَا نُوْدِيَ مِنْ

دَ نیکانو نه (۲۷) اُوئیل موسیٰ(علیه السلام) دا فیصله ده په مینځ زما او مینځ ستا کښې هر یو دَ دواړو نیټونه چه پوره کړه ما نونیشته زیاتے کول په ما باندے او اللّٰه تعالیٰ په هغه خبرو چه مونږ وایو ذمه دار دے (۲۸) پس هر کله چه پوره کړه موسیٰ(علیه السلام) نیټه او راوړ ئے کړه کورنیۍ خپله اولیدلو دهٗ دَ طرف دَ طور نه اور لره اُوئیل هغه کور والو ته حصار شئے یقیناً ما لیدلے دے اور کیدیشی چه راوړم تاسو ته دَ هغے نه څه خبر دَلارے یا سکروټه دَ اور نه دے دپاره چه تاؤده شئے تاسو (۲۹) پس هر کله چه راغے ورته اواز ورکړے شو دَ

[۲۷] دا دلیل دے چه صالحان خلق پخپله لونړه خپلے دَنکاح دَپاره پیش کوی هرکله چه صالح شخص اُوینی ﴿اُرِيْدُ﴾ دائے دَ دے وجے نه فرمائیلی دی چه داعرض دَنکاح دے عقد دَنکاح نه دے ځکه چه عقد دَنکاح کښې ایجاب قبول په صیغه دَ ماضی سره ضروری وی۔بل داچه په عقد کښې تعیین دَیو شئے ضروری دے اودلته ئے تعیین نه دے کړے ﴿عَلٰٓى اَنْ تَاْجُرَنِيْ﴾ علی یا دَ عوض دپاره دے یا دَ شرط دپاره دے که دَ عوض دپاره وی نو په دے باندے اعتراض دا دے چه مزدوری دَ موسیٰ(علیه السلام) دَ شعیب(علیه السلام) سره څرنګ مهرکیدے شی دپاره دَ لور دَ هغه ځکه چه دَ مهرحقدارپلارنه دے بلکه منکوحه ده۔ جواب دا دے چه دا دَ هغوی په دین کښې جائزده لیکن دا قول ثابت نه دے۔ دویم جواب دا دے چه دا مطلب هله کیدیشی چه تاجرنی په معنیٰ دَ عوض راکولو وی لیکن دا په معنیٰ دَ اخستلو دَ اجرت دے، دریمه توجیه دا ده چه عَلٰی دپاره دَ شرط دے اودا شرط دَ نکاح سره مناسب اوموافق دے اوکوم شرط چه داسے وی نودَ نکاح سره په شرط لګولوکښې نقصان اوفسادنه راولی۔ دَ دے شرط مطلب دا دے چه ته به ځما سره کارکوے خو دَ هغے به ځما نه اجرت اخلے په عوض دَکارکولو اودَ دے اجرت نه به ستا دَ شئے مهر اونفقه پوره کیږی ﴿تَاْجُرَنِيْ﴾ معنیٰ دا ده چه زمانه به اجرت اخلے په عوض دَکارکولوځما سره۔ اواجارے دپاره مدت مقرر کول ضروری دی نودلته هم اته کاله مدتِ ضروریه ده اولس کاله دَ موسیٰ(علیه السلام) په رضا باندے موقوف دی۔

[۲۸] دا قبولیت دَعقد دے دَ طرف دَ موسیٰ(علیه السلام) نه او اَيَّمَا الْاَجَلَيْنِ کښې اشاره ده چه عقد دے په اتو کلونوسره، اولس پوره کول په خوښۀ باندے بناء دی ﴿فَلَا عُدْوَانَ﴾ معنیٰ ده تجاوزکول په غیرلازم ځیزسره یعنی دواړه حالتونوکښې به زمانه نوره زیاتی مدت مزدوری کول نه غواړے ﴿وَاللّٰهُ عَلٰى مَا نَقُوْلُ وَكِيْلٌ﴾ قول دَموسیٰ(علیه السلام) یاقول دَ شعیب(علیه السلام) دے اودے دواړوپه شهادت اوپه وکالت دَ اللّٰه تعالیٰ باندے اکتفاء کړیده اودا دَکامل صالحانومقام دے۔

[۲۹] دَ دے ایت نه تر(۳۵) پورے ځلورم مقام دے په کښې نبوت دَ موسیٰ(علیه السلام) او دوه معجزات اولیږل فرعونیانوته او قبولیت دَ دعا دَ موسیٰ(علیه السلام) ذکردے اودا دَ اللّٰه تعالیٰ دَ نعمتونونه دی سرهٗ دَ ابتلاء نه۔ ﴿الْاَجَلَ﴾ دَابن عباس رضی اللّٰه عنهما نه دَبخاری روایت دے چه موسیٰ(علیه السلام)لس کاله تیرکړل ځکه چه رسول دَ اللّٰه تعالیٰ چه څه اوائی نوهغه کوی ﴿وَسَارَ بِاَهْلِهٖٓ﴾ دَ خاوند اختیاردے چه خپله کوروالا بغیردَ ګناه

شَاطِئِ الْوَادِ الْاَيْمَنِ فِي الْبُقْعَةِ الْمُبٰرَكَةِ مِنَ الشَّجَرَةِ اَنْ يّٰمُوْسٰٓى اِنِّيْٓ اَنَا اللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۳۰﴾ وَ
اَنْ اَلْقِ عَصَاكَ ؕ فَلَمَّا رَاٰهَا تَهْتَزُّ كَاَنَّهَا جَآنٌّ وَّلّٰى مُدْبِرًا وَّلَمْ يُعَقِّبْ ؕ يٰمُوْسٰٓى اَقْبِلْ وَلَا تَخَفْ ۫
اِنَّكَ مِنَ الْاٰمِنِيْنَ ﴿۳۱﴾ اُسْلُكْ يَدَكَ فِيْ جَيْبِكَ تَخْرُجْ بَيْضَآءَ مِنْ غَيْرِ سُوْٓءٍ ۫ وَّاضْمُمْ اِلَيْكَ جَنَاحَكَ مِنَ

غارے دَ کنډے بنے طرف نه په زمکه برکتی کښ دَ اونے دَ طرف نه چه اے موسیٰ(علیه السلام) یقیناً ځه الله یم رب دَ عالمینو (۳۰) او اوغورځوه همسا خپله پس هر کله چه هغه اولیدله چه زر زر خوځیدله ګویا که دا نرے مار دے او ګرځیدو شاکوؤنکے اوشاته ئے نه کتل (اُوئیل مونږ) اے موسیٰ(علیه السلام) مخامخ شه اومه ویریږه یقیناً ته دَ امن والو نه ئے (۳۱) ورننه باسه لاس خپل په ګریبان خپل کښ را اوځی به سپین بغیر دَ څه نقصان نه او جوخت کړه ځان ته متے خپلے دَ وجے دَ

نه هر چرته بوځی نوهغه به ئے تابع وی ﴿جَذْوَةٍ﴾ سروټکه دَ اور ده اوهرکله چه دَ لرګی په سرکښ وی نوقبس ورته وئیلے کیږی ﴿لَعَلِّيْ﴾ په سورة طٰهٰ اوپه دے سورة کښ ئے په لَعَلَّ سره ذکر کړیدے اودا حقیقت دے ځکه چه خبریا اور راوړل یقیناً معلوم نه دی۔ اوسورة نمل کښ سَاٰتِيْكُمْ ذکر کړیدی په طورد مضبوط اُمید سره ځکه چه سورة نمل کښ حکمتونه ذکرکول مقصد وؤ اوحکمت په تاکید سره ذکرکول پکاردی۔ اودارنګ په سین سره ذکرکولو کښ اشاره ده زر راوړلوته۔

[۳۰] ﴿الْاَيْمَنِ﴾ صفت دَشاطئی دے یعنی دَ وادئ بنے طرف په نسبت دَیمین دَ موسیٰ(علیه السلام) سره اوښی طرف کښ خیر اوبرکت وی ﴿مِنَ الشَّجَرَةِ﴾ دا بدل دے دَ شاطئی نه اومعنیٰ دا ده چه طرف دَ شجرے نه اواز راغے چه ځه الله یم لکه چه حلولیان وائی چه الله تعالیٰ په دغه اونه کښ حلول کړے وؤنوهغے اُوئیل چه ځه الله یم (نعوذ بالله) اودوی وائی چه الله تعالیٰ هرکله چه اوغواړی نو هرقسم مخلوق کښ دننه حلول کوی اوهغه مخلوق بیا دعویٰ دَ الوهیت کولے شی لیکن داعقیده باطله ده اوکفرصریح دے ځکه چه دَ دعویٰ الوهیت اوربوبیت دَ مخلوق دَ طرف نه دروازه ګُهلاویږی اوسورة انبیاء (۲۹) کښ دی (وَمَنْ يَّقُلْ مِنْهُمْ اِنِّيْٓ اِلٰهٌ مِّنْ دُوْنِهٖ فَذٰلِكَ نَجْزِيْهِ جَهَنَّمَ) یعنی که دا قول څوك قصداً کوی اوکه بے اختیاره کوی دواړوته شامل دے۔

فائده: موسیٰ(علیه السلام) ته الله تعالیٰ چه کلام واوړولونودَ هغه یقین راغے چه دَکلام نداء کوؤنکے الله تعالیٰ دے اودا کلام دَ الله تعالیٰ دے اودا صریح دلیل دے چه اوریدلے شوے کلام دَ الله تعالیٰ وؤ۔

[۳۱] داسے سورة نمل کښ تیرشویدی اودا اوله معجزه ده اوهرکله چه په دے سورة کښ ئے مکان دَ نِداء په وضاحت سره بیان کړونواَقبِل ئے په دے وجه زیات راوړوچه دغه مکان ته مخامخ شه اوهرکله چه سورة نمل کښ حکمتونه بیانول مقصد وؤ نودَ دے وجے نه هلته ئے لَايَخَافُ لَدَيَّ الْمُرْسَلُوْنَ ذکر کړو چه په هغے کښ حکمتونوته اشاره ده۔

الرَّهْبِ فَذٰنِكَ بُرْهَانٰنِ مِنْ رَّبِّكَ اِلٰى فِرْعَوْنَ وَمَلَا۟ئِهٖ ؕ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمًا فٰسِقِيْنَ ﴿٣٢﴾ قَالَ رَبِّ
اِنِّيْ قَتَلْتُ مِنْهُمْ نَفْسًا فَاَخَافُ اَنْ يَّقْتُلُوْنِ ﴿٣٣﴾ وَاَخِيْ هٰرُوْنُ هُوَ اَفْصَحُ مِنِّيْ لِسَانًا فَاَرْسِلْهُ مَعِيَ
رِدْاً يُّصَدِّقُنِيْٓ ۡ اِنِّيْٓ اَخَافُ اَنْ يُّكَذِّبُوْنِ ﴿٣٤﴾ قَالَ سَنَشُدُّ عَضُدَكَ بِاَخِيْكَ وَنَجْعَلُ لَكُمَا سُلْطٰنًا
فَلَا يَصِلُوْنَ اِلَيْكُمَا ۚ بِاٰيٰتِنَآ ۚ اَنْتُمَا وَمَنِ اتَّبَعَكُمَا الْغٰلِبُوْنَ ﴿٣٥﴾ فَلَمَّا جَآءَهُمْ مُّوْسٰى بِاٰيٰتِنَا بَيِّنٰتٍ

هیبت نه پس دا دوه یقینی دلیلونه دی ستا له طرفه دَ رب ستانه فرعون ته او مشرانو دَ قوم دَ هغه ته یقیناً
دوی وؤ قوم نافرمان (۳۲) اُوئیل هغه اے ربه زما یقیناً ما وژلے دے دَ دوی نه یوتن نو ویریږم چه دوی به
ما لره قتل کړی (۳۳) اورور زما هارون هغه پیر صفا دے زما نه په ژبه کښ پس اولیږه هغه زما سره
امدادی چه تصدیق کوی زما یقیناً ځه ویریږم چه دوی به ماته دروغژن اُوائی (۳٤) اُوئیل اللّٰه تعالیٰ زر
ده چه کلك به کړم متے ستا په رور ستا سره او دربه کړم تاسو دواړو لره رعب (غلبه) نو رسیدل به
نشی کولے تاسو دواړوته (لارشئ) په معجزاتو ځما سره تاسو دواړه اوخوك چه ستاسو تابعدار دی
زوراور ئے (۳۵) پس هر کله چه راغے دوی ته موسیٰ(علیه السلام) په معجزاتو زمونږ ښکاره

[۳۲] دا دویمه معجزه ده هرکله چه په دے سورة کښ مقصد ابتدائی حالات ذکرکول دی نوپه دے معجزه کښ اول حال چه داخلول دی په اُسلُك کښ مراد دے روستوبیا پیوست کول دَلاس دی دَ جناح سره کوم چه سورة طٰهٰ (۲۲) کښ ذکردی ﴿وَاضْمُمْ اِلَيْكَ جَنَاحَكَ مِنَ الرَّهْبِ﴾ دَ دے دوه مطلبه دی اول داچه هرکله دَ رنړا دَلاس نه دربانده هیبت راشی نولاس واپس گریبان کښ داخل کړه نورنړا به زائله شی نودا تتمه شوه دَ دویمے معجزے۔ دویم مطلب دا دے چه هرکله چه تا باندے دَ ماردَ وجے یا دَ فرعون دَ وجے یا دَ بلے وجے نه هیبت او ویره رائحی نودَ هغے دَ لرے کولودپاره دا تدبیرکوه چه لاسونه په سینه باندے په یوځائے کیده نوهیبت به درنه زائله شی۔ اودَ ابن عباس رضی اللّٰه عنهما نه راویت دے چه روستودَ موسیٰ(علیه السلام) نه داتدبیر هرچا دپاره فائده مند دے ﴿بُرْهَانٰنِ﴾ دا دلیل دے چه معجزات یقینی دلیلونه دی په توحید اورسالت باندے اودا دلیل دے چه واضمم الیك مستقله معجزه (دریمه) نه ده۔

[۳۳] دا اوله دعا ده دَ موسیٰ(علیه السلام) یعنی ځه دَ هغوی مجرم یم نوته ما دَ هغوی نه بچ اوساتے۔

[۳٤] دا دویمه دعا ده په باره دَ رورکښ دَ هغے تفصیل سورة طٰهٰ او سورة شعراء کښ تیر شویدے۔

[۳۵] دا قبولیت دَ دواړو دعاګانودے په غیرترتیب سره یعنی دَ دویمے دعا استجابت اول ذکر شو او دَا ولے دعا قبولیت ئے په دے قول سره ذکرکړو ﴿وَنَجْعَلُ لَكُمَا سُلْطَانًا﴾ یعنی تاسوله به داسے رعب درکړم چه فرعونیان به ستاسونه ویریږی تاسوته به هیڅ ضررنشی رسولے ﴿بِاٰيٰتِنَآ﴾ یعنی اذهبا مقدردے، لارشئے دواړه په معجزاتوسره ﴿اَنْتُمَا وَمَنِ﴾ دا بشارت او وعده ده دَطرف دَ اللّٰه تعالیٰ نه دپاره دَتسلّئے۔

قَالُوْا مَا هٰذَآ اِلَّا سِحْرٌ مُّفْتَرًى وَّمَا سَمِعْنَا بِهٰذَا فِيْٓ اٰبَآئِنَا الْاَوَّلِيْنَ ﴿٣٦﴾ وَقَالَ مُوْسٰى رَبِّيْٓ اَعْلَمُ
بِمَنْ جَآءَ بِالْهُدٰى مِنْ عِنْدِهٖ وَمَنْ تَكُوْنُ لَهٗ عَاقِبَةُ الدَّارِ ؕ اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿٣٧﴾ وَقَالَ
فِرْعَوْنُ يٰٓاَيُّهَا الْمَلَاُ مَا عَلِمْتُ لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرِيْ ۚ فَاَوْقِدْ لِيْ يٰهَامٰنُ عَلَى الطِّيْنِ فَاجْعَلْ لِّيْ
صَرْحًا لَّعَلِّيْٓ اَطَّلِعُ اِلٰٓى اِلٰهِ مُوْسٰى ۙ وَاِنِّيْ لَاَظُنُّهٗ مِنَ الْكٰذِبِيْنَ ﴿٣٨﴾ وَاسْتَكْبَرَ هُوَ وَجُنُوْدُهٗ فِي الْاَرْضِ
بِغَيْرِ الْحَقِّ وَظَنُّوْٓا اَنَّهُمْ اِلَيْنَا لَا يُرْجَعُوْنَ ﴿٣٩﴾ فَاَخَذْنٰهُ وَجُنُوْدَهٗ فَنَبَذْنٰهُمْ فِي الْيَمِّ ۚ فَانْظُرْ كَيْفَ

اُوئیل دوی نه دے دا مګر جادو دے دَ ځان نه جوړ کړے شوے اونه دی اوریدلی مونږ دا په مشرانو زمونږ زړو کښ (٣٦) او اُوئیل موسیٰ(علیه السلام) رب زما ښه پوهه دے په هغه چاچه راوړی هدایت دَ طرف دَ هغه نه اوپه هغه چا چه وی هغه لره انجام غوره دَ کور (روستنی) یقیناً نه شی بچ کیدے ظالمان (٣٧) او اُوئیل فرعون اے مشرانو دَ قوم نه پیژنم ځه ستاسو دپاره هیڅ حق دار دَ بندګئ او دَطاعت سیوا زمانه پس بل کړه اور زما د پاره اے هامانه په خټو باندے پس جوړه کړه ما لره بنګله کیدے شی چه بره اوخیژم په الله دَ موسیٰ(علیه السلام) پسے او یقیناً ځه ګمان کؤوم په دهٗ باندے دَ دروغژنو نه (٣٨) او لوئي او کړه دهٗ او لښکرو دَ دهٗ په ملك کښ بغیر دَ حق نه اوګمان اوکړو دوی چه یقیناً دوی به مونږ ته نشی راګرځیدلے (٣٩) نو اونیؤو مونږ دهٗ لره او لښکرے دَ دهٗ نو ګذار کړل مونږ دوی لره په دریاب کښ نو اوګوره چه څرنګ

[٣٦] دَ دے ایت نه تر(٤٤) پورے پنځم مقام دے په دے کښ امتحان دے په موسیٰ(علیه السلام) باندے په دعوت کولوفرعون ته اودَ هغوی کیدونه اوتلبیس اچول په قوم باندے اونازلیدل په هغوی باندے عذاب اولعنت په دنیا اوآخرت کښ ذکردی اودا نعمتونه دی په موسیٰ(علیه السلام) اودَ هغه په ملګرو باندے سرهٗ دَ نعمت دَ انزالِ تورات نه۔ په دے ایت (٣٦)کښ دعوت دَموسیٰ(علیه السلام) په اختصارسره ذکردے اوتکذیب دَ فرعونیانوپه دوه طریقوسره، اول تکذیب دَ معجزاتوچه دا سحر دے دویم تکذیب دَ توحید چه دا دَ مشرانونه خلاف دے۔

[٣٧] هرکله چه دوی په ضمن دَ تکذیب کښ موسیٰ(علیه السلام) ته دَګمراهئی نسبت اوکړونوموسیٰ(علیه السلام) دَ هغے جواب اوکړو په دے ایت کښ په تفویض (سپارل) سره علم دَ اللّٰه تعالیٰ ته ﴿اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ﴾ کښ اجمالاً اشاره ده چه فرعونیان به تباه کیږی په عذاب سره نو معلومه شوه چه دوی ګمراهان دی۔

[٣٨] دا دعویٰ دَ فرعون ده دَ حصر دَ الوهیت په خپل ځان کښ مراد دَ دے دا دے چه بغیرځما دَ اجازت نه بل الٰه نیشته او ځه هم الٰه یم لکه دلالت کوی په دے باندے سورة اعراف (١٢٧) اوانکارد بل الٰه نه اوپه الٰه دَ موسیٰ(علیه السلام) پسے بره ختل داټول تلبیس دَفرعون دے په خپل قوم باندے دَپاره دَ دے چه قوم جاهلان دی اوځما تابعداری کوی (فَاسْتَخَفَّ قَوْمَهٗ فَاَطَاعُوْهُ) زخرف:٥٤ ﴿فَاَوْقِدْ لِيْ يٰهَامٰنُ عَلَى الطِّيْنِ﴾ مراد دَ دے نه پخے خټے جوړول دی اودا طریقه ایجاد دَ فرعون دے۔ بیا صرح (مانړے) جوړول اوبیا دَهغے ټکړے کیدل وغیره دا قصے صحیح ثابت نه دی﴿وَاِنِّيْ لَاَظُنُّهٗ﴾ په دے کښ اشاره کوی چه مانړے جوړ ولوته ضرورت نیشته ځکه چه موسیٰ دروغژن دے۔

[٣٩] دَ دوی دوه مرضونه ئے ذکرکړل اول استکبارپه باطل یعنی شرك وکفر دویم انکار دَ بعث بعد الموت نه۔

كَانَ عَاقِبَةُ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٤٠﴾ وَجَعَلْنٰهُمْ اَئِمَّةً يَّدْعُوْنَ اِلَى النَّارِ ۚ وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ لَا يُنْصَرُوْنَ ﴿٤١﴾ وَاَتْبَعْنٰهُمْ
فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا لَعْنَةً ۚ وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ هُمْ مِّنَ الْمَقْبُوْحِيْنَ ﴿٤٢﴾ ع وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ مِنْۢ بَعْدِ
مَآ اَهْلَكْنَا الْقُرُوْنَ الْاُوْلٰى بَصَآئِرَ لِلنَّاسِ وَهُدًى وَّرَحْمَةً لَّعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ﴿٤٣﴾ وَمَا كُنْتَ بِجَانِبِ
الْغَرْبِيِّ اِذْ قَضَيْنَآ اِلٰى مُوْسَى الْاَمْرَ وَمَا كُنْتَ مِنَ الشّٰهِدِيْنَ ﴿٤٤﴾ وَلٰكِنَّآ اَنْشَاْنَا قُرُوْنًا فَتَطَاوَلَ
عَلَيْهِمُ الْعُمُرُ ۚ وَمَا كُنْتَ ثَاوِيًا فِيْٓ اَهْلِ مَدْيَنَ تَتْلُوْا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِنَا ۙ وَلٰكِنَّا كُنَّا مُرْسِلِيْنَ ﴿٤٥﴾ وَمَا

شو انجام دَ ظالمانو (٤٠) او اوګرځول مونږ دوی لره پیشوایان چه بلنه کوی اور ته اوپه ورځ دَ قیامت به دَ دوی مدد نشی کیدلے (٤١) او را اولیږه مونږ په دوی پسے په دے دنیا کښ لعنت اوپه ورځ دَ قیامت به دوی به دَ بد وئیلو شوؤ نه وی (٤٢) او یقیناً ورکړے وؤمونږ موسیٰ(علیه السلام) ته کتاب روستو دَ هغے نه چه هلاك کړلے مونږ پیړئے مخکښنے دَ پاره دَ پوهے (دَزړونو) خلقو لره او دپاره دَ هدایت او دَ رحمت دَ دے دپاره چه دوی نصیحت واخلی (٤٣) اونه وے ته په طرف مغربی کښ کله چه حواله کړو مونږ موسیٰ(علیه السلام) ته کار دَ پیغمبرئے اونه وے ته دَ حاضرو ناظرو نه (٤٤) اولیکن مونږ پیدا کړے پیړئے نو اوګذه تیر شول په هغوی باندے عمرونه او نه وے ته اوسیدونکے په مدین والو کښ چه لوستل تا په هغوی باندے ایا تونه زمونږ اولیکن یو مونږه رالیږونکی (٤٥) اونه

[٤٠] دا صریح نص دے په نیولودَ فرعون او غرق کولو دَ هغه باندے او دا لوئے عبرت دے ظالمانوته۔

[٤١] اوله جمله کښ دَ دوی دنیوی حال ذکر شویدے یعنی دوی دَ کفر او دَشرك دعوت کوؤنکی وؤ۔ معلومه شوه چه امام دَګمراهئ په اقتداء کښ هم استعمالیږی۔

[٤٢] په دے کښ ذکردَ عذاب دنیوی اواخروی دواړودے ﴿اَلْمَقْبُوْحِيْنَ﴾ هلاك کړے شوی یا بدشکلی یا لرے کړے شوی دَ رحمت دَ اللّٰه تعالیٰ نه ﴿اَتْبَعْنَاهُمْ﴾ په دے کښ معنیٰ دَ همیش والی ده۔

[٤٣] دَ قوم فرعون اهلاك لوئے انعام وؤ اوس بل انعام ذکرکوی چه هغه کتاب تورات دے موصوف په درے لوئے صفتونو سره ﴿مِنْۢ بَعْدِ مَآ اَهْلَكْنَا﴾ دا دلیل دے چه دَ فرعون نه روستواللّٰه تعالیٰ په یوامت باندے استیصالی (دَ ویخه ویستونکے) عذاب نه دے رالیږلے هاں یوبوکلی باندے عذاب راغلے دے اوراځی۔ ﴿بَصَآئِرَ﴾ کښ اشاره ده دلیلونواومثالونووغیره ته اوهدیٰ کښ اشاره ده عقیدے او اعمالوته او رحمة کښ اشاره ده بشارتونو او ثوابونوته۔

[٤٤] تردے ځائے پورے مقامات موسویه ختم شول دَ دے آیت نه تر(٦٠) پورے دویم باب دے په دے کښ اثبات دَ صدق دَ رسول دے اوحکمت دَ ارسال رُسُل دے بیا زجردے منکرینودَکتاب او رسول ته اوترغیب دے قرآن ته اودلیل نقلی دے دَاهل کتاب سابقین نه اودَ هغوی لس صفات، بیا جواب دَسوال دے په نفی دَهدایت سره دَرسول نه بیازجردے منکرینوته اوتخویف دنیوی دے۔

[٤٤، ٤٥، ٤٦] کښ اثبات دَ صدق رسول دے تفریع په قصه دَ موسیٰ(علیه السلام) باندے اودا استدلال په عدم حضوردَ نبی(صلی الله علیه وسلم) په وخت دَ واقعاتودَموسیٰ(علیه السلام) کښ یعنی حاضرنه وؤپه دغه حالاتوکښ اوسرهٔ دَ دے نه

كُنْتَ بِجَانِبِ الطُّوْرِ اِذْ نَادَيْنَا وَلٰكِنْ رَّحْمَةً مِّنْ رَّبِّكَ لِتُنْذِرَ قَوْمًا مَّآ اَتٰىهُمْ مِّنْ نَّذِيْرٍ مِّنْ قَبْلِكَ
لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ﴿٤٦﴾ وَلَوْلَآ اَنْ تُصِيْبَهُمْ مُّصِيْبَةٌ بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْهِمْ فَيَقُوْلُوْا رَبَّنَا لَوْلَآ اَرْسَلْتَ
اِلَيْنَا رَسُوْلًا فَنَتَّبِعَ اٰيٰتِكَ وَنَكُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٤٧﴾ فَلَمَّا جَآءَهُمُ الْحَقُّ مِنْ عِنْدِنَا قَالُوْا لَوْلَآ اُوْتِيَ
مِثْلَ مَآ اُوْتِيَ مُوْسٰى ؕ اَوَلَمْ يَكْفُرُوْا بِمَآ اُوْتِيَ مُوْسٰى مِنْ قَبْلُ ۚ قَالُوْا سِحْرٰنِ تَظَاهَرَا ۖ وَقَالُوْٓا اِنَّا

وے ته په طرف دَ طور غر کښې کله چه اواز ورکړو مونږ (موسیٰ(علیه السلام)) ته دپاره دَ کتاب) اولیکن را اولیږلے مونږ ته رحمت ستا دَ رب دَ طرف نه دپاره دَ دے چه ویره ورکړے هغه قوم ته چه نه دے راغلے دوی ته هیڅ ویره ورکوؤنکے ستا نه مخکښې دپاره دَ دے چه دوی نصیحت قبول کړی (٤٦) او که چرے نوے دا خبره چه اورسی دوی ته مصیبت په سبب دَ هغه عملونو چه مخکښې لیږلی دی لاسونو دَ دوی نو وائی به اے ربه زمونږ ولے تانه رالیږلو مونږ ته رسول پس تابعداری به کړے وے مونږ دَ اٰیاتونو ستا او وے به مونږ دَ مؤمنانونه (٤٧) پس هر کله چه راغے دوی ته حق دَ طرف زمونږ نه اُوئیل دوی ولے نشی ورکیدلے دهٔ ته پشان دَ هغے چه ورکړے شوے دے موسیٰ(علیه السلام) ته آیا دوی کفر نه دے کړے په هغه کتاب چه ورکړے شوے ووٴ موسیٰ(علیه السلام) ته دَ دے نه مخکښې وئیلی دی دوی دا دوه جا دو ګردی چه امداد ئے کړے دے دَ یوبل سره اودوی وئیلی دی چه مونږ

رشتینی واقعات ئے ذکرکړل نومعلومه شوه چه وحی ورته شویده اونبی صادق دے ﴿وَمَا كُنْتَ بِجَانِبِ الْغَرْبِيِّ﴾ په دے کښې مراد اول وخت دَ وحی دَموسیٰ(علیه السلام) دے په واپسے کښې دَ مدین نه مصرته چه هغه دَ دے سورة په (٣٠) کښې ذکرشو ﴿وَمَا كُنْتَ مِنَ الشّٰهِدِيْنَ﴾ دا نفی په طریقه دَ عموم سره ده روستودَ خصوص نه ﴿قُرُوْنًا﴾ نه مراد ډیرے زمانے دی چه په هغے کښې رسول نه وؤ راغلے۔ زمانه دَ فترة ده نوپه هغے کښې رسول ته ډیرضرورت پریوتلونو (فَارسلناك) مقدردے ﴿تَتْلُوْا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِنَا﴾مراد دَ دے لوستل دَشاګرد دی په استاد باندے مطلب ئے دا دے چه ته په مدین کښې دیره نه وے چه تا دَهغوی نه دا واقعات ایزده کړی دی کوم چه دَموسیٰ(علیه السلام) حالات وؤپه مدین کښې ﴿وَمَا كُنْتَ بِجَانِبِ الطُّوْرِ اِذْ نَادَيْنَا﴾ مراد دَ دے نه وخت دَکتاب ورکولودے موسیٰ(علیه السلام) ته په طورکښې یعنی په دغه وخت کښې هم حاضرنه وے اوبیا هم مونږتاته خبردرکړواورسول هم اوګرځولے دَ وحے دَ رحمت نه۔

[٤٧] دا جواب دَ سوال دے چه دَ رسول رالیږلوځه ضرورت وؤعذاب به ئے دوی باندے رالیږلے وے؟جواب دے په بیان دَ حکمت دَارسال رسول سره چه هغه دفع دَ عذر دَ خلقوده لکه چه سورة طٰهٰ (١٣٤)کښې اوسورة نساء (١٦٥) کښې تیرشویدی اودَ ایت په آخرکښې لَمَا اَرْسَلْتَنَاكَ پټ مراد دے۔

[٤٨] په دے کښې زجر دے منکرینو دَ قرآن او دَ رسول ته په دوه طریقو سره اوله طریقه دَ انکار دا ده چه دوی اُوئیل چه دے رسول ته دَ موسیٰ(علیه السلام) په شان معجزات اوکتاب په یوځے ولے نشی ورکیدلے اودَ دے په جواب کښې دَ دوی دَ انکاردویمے طریقے ته اشاره ده او هغه یوه خاص واقعه وه هغه دا ده چه دَ یهودیانو دَیو عالم ملاقات اوشودَ قریش مکه سره نو دوی ترینه تپوس اوکړو چه دا نبی دعویٰ دَ نبوت کوی او دَ توحید مسئله کوی او وائی چه ذبح او نذرپه نوم دَ غیرالله باندے حرام دے ته دَ دے باره کښې څه وائے نو

بِكُلٍّ كٰفِرُوْنَ ﴿٤٨﴾ قُلْ فَاْتُوْا بِكِتٰبٍ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ هُوَ اَهْدٰى مِنْهُمَآ اَتَّبِعْهُ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿٤٩﴾ فَاِنْ لَّمْ
يَسْتَجِيْبُوْا لَكَ فَاعْلَمْ اَنَّمَا يَتَّبِعُوْنَ اَهْوَآءَهُمْ ؕ وَمَنْ اَضَلُّ مِمَّنِ اتَّبَعَ هَوٰىهُ بِغَيْرِ هُدًى مِّنَ اللّٰهِ ؕ اِنَّ
اللّٰهَ لَا يَهْدِى الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٥٠﴾ وَلَقَدْ وَصَّلْنَا لَهُمُ الْقَوْلَ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ﴿٥١﴾ اَلَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ
الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِهٖ هُمْ بِهٖ يُؤْمِنُوْنَ ﴿٥٢﴾ وَاِذَا يُتْلٰى عَلَيْهِمْ قَالُوْٓا اٰمَنَّا بِهٖٓ اِنَّهُ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّنَآ اِنَّا كُنَّا

ع ١٠ النصف

په هر یو باندے کفر کوؤنکی یو(٤٨) ته اُوایه پس راوړئے تاسو یو کتاب دَ طرف دَ اللّٰه تعالیٰ نه چه هغه ښه هدایت والاوی دَ دے دواړو نه تابعداری به ئے اوکړم ځه که چرے تاسو ئے رشتینی (٤٩) پس که چرے دوی قبوله نکړی خبره ستاسو پس پوهه شئے چه یقیناً تابع داری کوی دوی دَ خواهشاتو خپلو او څوك ډیر بے لارے دے دَ هغه چانه چه تابع وی دَ خواهش خپل بغیر دَ هدایت دَ طرف دَ اللّٰه تعالیٰ نه یقیناً اللّٰه تعالیٰ توفیق نه ورکوی قوم ظالمانو ته (٥٠) او یقیناً یو بل پسے پیوست بیا ن کړیده مونږ دوی ته وینا دَ دے دپاره چه دوی نصیحت قبول کړی (٥١) هغه کسان چه ورکړے دے مونږ دوی ته کتاب مخکښ دَ قرآن نه دوی په دے با ندے ایمان راوړی (٥٢) او کوم وخت چه اولوستلے شی په دوی باندے دوی وائی ایمان راوړے دے مونږ په دے یقیناً دا حق دے دَ طرف دَ رب ځمونږ نه یقیناً مونږ وو

هغه ورته اُوئیل چه دا سے زمونږ په کتاب کښ هم شته دے نو قریش غصه شول او انکارئے اوکړو او دوی اوئیل سِحْرٰنِ تَظَاهَرَا یعنی تورات او قرآن دواړه جادو دے او دَ یوبل سره ئے امداد کړے دے۔

[٤٩] دا جواب دے دَ دے قول چه سِحْرٰنِ تَظَاهَرَا یعنی چه دوی دَ قرآن او تورات دواړونه انکارکوی نو دوی دے دَ دے نه ښه هدایت والا کتاب راوړی چه په هغے کښ ئے شرك جائزکړے وی په دے شرط چه دَ اللّٰه تعالیٰ دَطرف نه وی۔

[٥٠] دا بیان دَ عجزدَ دوی دے دَکتاب راوړلونه په خپل شرك باندے اوپه هغے باندے تفریع ده په فاعلم سره یعنی چاسره چه دلیل شرعی نه وی نومستلزم ده چه دوی به دَ خواهش تابع وی اوتابعداری دَ خواهش ضلال اوظلم دے۔

[٥١] دا رد دے په اتباع دَخواهش باندے ﴿وَصَّلْنَا لَهُمُ﴾ یعنی وحی لره مونږدَ رسولانوپه واسطه پرله پسے درلیږلے ده دَپاره دَ دفع دَعذردَخلقویا دَ القول نه مراد مضمون دَ قرآن دے او مراد دا دے چه دَ قرآن مضامین وعد وعید دعویٰ ، دلیلونه ، قصص امثال وغیره دَ یوبل سره پیوست پرله پسے مونږ بیان کړی دی نودا ترغیب دے قرآن ته۔

[٥٢] دا دلیل نقلی دے دَمخکنوعلماءِ اهل کتاب نه اودَ هغوی لس صفات دی، په دے ایت کښ اول صفت دَدوی دے، بِهٖ ضمیر الکتاب ته راجع دے یعنی دوی په خپل کتاب باندے ایمان لری۔

مِنْ قَبْلِهٖ مُسْلِمِيْنَ ﴿٥٣﴾ اُولٰٓئِكَ يُؤْتَوْنَ اَجْرَهُمْ مَّرَّتَيْنِ بِمَا صَبَرُوْا وَيَدْرَءُوْنَ بِالْحَسَنَةِ السَّيِّئَةَ وَمِمَّا
رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ﴿٥٤﴾ وَاِذَا سَمِعُوا اللَّغْوَ اَعْرَضُوْا عَنْهُ وَقَالُوْا لَنَآ اَعْمَالُنَا وَلَكُمْ اَعْمَالُكُمْ ز سَلٰمٌ
عَلَيْكُمْ ز لَا نَبْتَغِي الْجٰهِلِيْنَ ﴿٥٥﴾ اِنَّكَ لَا تَهْدِيْ مَنْ اَحْبَبْتَ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ ج وَهُوَ
اَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِيْنَ ﴿٥٦﴾ وَقَالُوْٓا اِنْ نَّتَّبِعِ الْهُدٰى مَعَكَ نُتَخَطَّفْ مِنْ اَرْضِنَا ط اَوَلَمْ نُمَكِّنْ لَّهُمْ حَرَمًا اٰمِنًا

دَ دے نه مخکښ مسلمانان (٥٣) دغه کسان ورکولے به شی دوی ته ثواب دَ دوی دوه کرته (برغ) په دے وجه سره چه دوی صبر کړے دے او دفع کوی په نیکۍ سره بدئ لره او دَهغے مال نه چه مونږ دوی ته ورکړے دے خرچ کوی په لار دَ اللّٰه تعالیٰ کښ (٥٤) او کله چه دوی واورې بے فائدے خبرے مخ اړوی دَ هغے نه او دوی وائی مونږ د پاره زمونږ عملونه دی او تاسو لره ستاسو عملونه دی سلام دَ جدائے دے په تاسو باندے نه لټوؤ مونږه ملګرتیا دَ جاهلانو (٥٥) یقیناً ته نشے رسولے مقصد ته هغه چاړه چه ته ئے خوښه وے اولیکن اللّٰه تعالیٰ رسوی مقصدته هغه چاړه چه اوغواړی او هغه پوهه دے په هدایت موندونکو (٥٦) او دوی وائی که چرے تابعداری اوکړو مونږ دَ هدایت ستا په ملګرتیا کښ اوبه تختولے شو مونږ دَ ملك خپل نه ایا ځائے نه دے ورکړے مونږ دوی ته په حرم کښ چه امن والا دے

[٥٣] په دے کښ دوه صفتونه دی۔ ایمان بالقرآن او اسلام راوړل مخکښ دَ قرآن دَ نزول نه او دلته بِهٖ ضمیر قرآن ته راجع دے او دَ دے نه معلومه شوه چه مخکښنوخلقوته هم مسلمانان وئیلے کیږی۔ کوموجه ایمان صحیح راوړے وؤ۔

[٥٤] په دے کښ درے صفتونه دی صبر، دفع دَ سیئه په حسنه سره انفاق کول ﴿مَّرَّتَيْنِ﴾ هرکله چه په مخکښ ایاتونو کښ ئے ایمان په تورات اوایمان په قرآن ذکرکړودَ دے وجے نه ئے دوه اجرونه ذکر کړل۔ ﴿يَدْرَءُوْنَ بِالْحَسَنَةِ السَّيِّئَةَ﴾ دا الفاظ عام دی اوشامل دی ډیروامورونه۔ اَلْحَسَنَةِ کښ خائسته اخلاق، نرم کلام، صبروتحمل اوتوبه استغفاراودعوة دَتوحید اوسنت ټول داخل دی اوالسَّيِّئَةَ کښ دَالحسنة مقابل بداخلاق، سختے خبرے، کنځل اوطعنونه، ګناهونه، شرك اوبدعات ټول داخل دی۔

[٥٥] په دیکښ څلورصفات دی اعراض دَ لغونه دا دے چه دَلغوجواب نه ورکوی، لغونه قبلوی، لغوکښ شرکت نه کوی اولغوعام دے طعنونه کنځل، لوبے غزلے وغیره اوداسے په سورة فرقان (٧٢) کښ دی ﴿سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ﴾ دا سلام متارکت دے یعنی زمونږستاسودین جدا جدا دے مونږتاسوته کنځل وغیره نه کوؤاوکه دا معنیٰ شی چه مونږتاسوسره جنګ نه کوؤنودا منسوخ دے اودا سلام تحیه نه دے داسے په سورة فرقان (٦٣) کښ تیرشویدے ﴿لَا نَبْتَغِي الْجٰهِلِيْنَ﴾ یعنی طریقے اواخلاق او ملګرتیا دَجاهلانونه غواړو۔

[٥٦] دا جواب دَسوال دے، سوال دا دے چه هرکله دا نبی صادق دے نوخپل خپلوان پرے ولے ایمان نه راوړی، حاصل جواب دا دے چه توفیق دَ هدایت په اختیارَ اللّٰه تعالیٰ کښ دے۔ اوپه دے ایت کښ رد دے په شرك فی التصرف باندے یعنی دَ نبی ﷺ په اختیارکښ هدایت نیشته دلته مراد دَ هدایت نه توفیق ورکول اومقصد ته رسول دی دا دَ نبی په اختیارکښ نیشته اوهدایت چه معنیٰ ئے لارے خودل دی نوهغه دَ نبی ذمه داری ده۔

يُجْبٰٓى اِلَيْهِ ثَمَرٰتُ كُلِّ شَيْءٍ رِّزْقًا مِّنْ لَّدُنَّا وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٥٧﴾ وَكَمْ اَهْلَكْنَا مِنْ قَرْيَةٍۭ
بَطِرَتْ مَعِيْشَتَهَا ۚ فَتِلْكَ مَسٰكِنُهُمْ لَمْ تُسْكَنْ مِّنْۢ بَعْدِهِمْ اِلَّا قَلِيْلًا ۭ وَكُنَّا نَحْنُ الْوٰرِثِيْنَ ﴿٥٨﴾ وَمَا
كَانَ رَبُّكَ مُهْلِكَ الْقُرٰى حَتّٰى يَبْعَثَ فِيْٓ اُمِّهَا رَسُوْلًا يَّتْلُوْا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِنَا ۚ وَمَا كُنَّا مُهْلِكِي الْقُرٰٓى
اِلَّا وَاَهْلُهَا ظٰلِمُوْنَ ﴿٥٩﴾ وَمَآ اُوْتِيْتُمْ مِّنْ شَيْءٍ فَمَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَزِيْنَتُهَا ۚ وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ خَيْرٌ

راخکلے کیږی هغے ته میوے (غلے) دَ هر قسم دَ پاره دَ خوراك زمونږ دَ طرف نه اولیکن ډیر دَ دوی نه نه پوهیږی (٥٧) او ډیر هلاك کړیدی مونږ کلی چه دَ حدنه تیروتلی وؤ په ژوند خپل کښ پس دغه دی کورونه دَ دوی چه اوسیدل نه دی شوی په هغے کښ روستو دَ دوی نه مګر لږ وخت او وؤ مونږ آخری مالکان (٥٨) اونه دے رب ستا هلاکوؤنکے دَ کلو تردے پورے چه اولیږی په مینځ دَ هغے کښ رسول چه بیانوی په دوی باندے ایاتونه زمونږ او نه وؤ مونږ هلاکونکی دَ کلو مګر اوسیدونکی دَ هغے ظالمان دی (٥٩) او هغه چه درکړے شوے دے تاسو ته څه څیز نولږه نفع دَ ژوند دَنیوی ده او ډول دَ هغے دے اوهغه چه دَ اللّٰه تعالیٰ سره دی غوره دی

[٥٧] دا زجردے اواشاره ده چه دا مشرکان مکه (خپلوان دَ پیغمبر) دَ دے وجے نه منکرنه دی چه دا قرآن اوتوحید ورته ناحق ښکاری بلکه دَخلقودَ ویرے دَ وجے نه ایمان نه راوړی لکه اوس زمانه کښ ډیر هم داسے شته چه دَخلقودَ وجے نه دَ حق مرسته نه کوی ﴿نُتَخَطَّفْ﴾ مراد دَ دے شړل دی دَ وطن نه او په تکلیفونو سره تنګول دی۔ او دَ دوی جواب دے په دے قول سره اَوَلَمْ نُمَكِّنْ لَّهُمْ، یعنی په دوی باندے ښکاره درے انعامات کړیدی (١) حرم کښ ځائے ورکول (٢) امن دَ دشمنانو نه (٣) هر قسم غلے اومیوے حرم مکه ته راجمع کیدل دَ دوی دَ خوراك دَپاره نوحاصل دا شوچه اللّٰه تعالیٰ تاسولره په حال دَکفر وشرك کښ دا نعمتونه درکړی نو په حالت دَ اسلام کښ به هم درکوی دَ خلقو نه ولے ویریګئے۔

[٥٨] دا تخویف دنیوی دے هغه چاته چه دَمال اودنیا دَ وسعت په وجه باندے مست شی اوایمان نه راوړی اوداهم جواب دے دَمخکښ قول دَمنکرینویعنی دَ مخلوق نه مه یریګئے بلکه دَ اللّٰه تعالیٰ دَعذاب نه اویریګئے ﴿بَطِرَتْ مَعِيْشَتَهَا﴾ دَ حدنه تیرشویوؤپه ژوند اواسباب دَ معیشت کښ یا جاهل وؤدَ شکردَ معیشت خپل نه په اوله معنیٰ سره فِي پټ دے اوپه دویمه معنیٰ سره فی ته ضرورت نیشته۔

[٥٩] جواب دَ سوال دے چه هرکله دامکے والاهم په بطر اوتکبر کښ واقع شویوؤ نو اللّٰه تعالیٰ په دوی باندے عذاب ولے نه رالیږلو حاصل جواب دا دے چه دَ رسول دَ رالیږلوانتظار وؤ دَپاره دَ دے چه په دوی باندے حجت قائم شی اودَ دوی ظلم ښکاره شی ځکه چه داظلم سبب دَ عذاب دے ﴿اُمِّهَا﴾ ام القریٰ مکه مکرمه ده چه اصل دَعرب اوعجم دے اوداسے په سورة شوریٰ (٧) کښ هم ذکردی اودیته ام القریٰ دَ دے وجے نه وئیلے شی چه اول کعبه پدے ځائے کښ جوړه شویده لکه په سورة العمران (٩٦) کښ راغلی دی چه زمکه دَ دے ځائے نه غوړه ولے شویده۔

وَّاَبْقٰى ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۶۰﴾ اَفَمَنْ وَّعَدْنٰهُ وَعْدًا حَسَنًا فَهُوَ لَاقِيْهِ كَمَنْ مَّتَّعْنٰهُ مَتَاعَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۖ ثُمَّ
هُوَ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ مِنَ الْمُحْضَرِيْنَ ﴿۶۱﴾ وَيَوْمَ يُنَادِيْهِمْ فَيَقُوْلُ اَيْنَ شُرَكَآءِيَ الَّذِيْنَ كُنْتُمْ تَزْعُمُوْنَ ﴿۶۲﴾ قَالَ
الَّذِيْنَ حَقَّ عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ رَبَّنَا هٰٓؤُلَآءِ الَّذِيْنَ اَغْوَيْنَا ۚ اَغْوَيْنٰهُمْ كَمَا غَوَيْنَا ۚ تَبَرَّاْنَآ اِلَيْكَ ۖ
مَا كَانُوْٓا اِيَّانَا يَعْبُدُوْنَ ﴿۶۳﴾ وَقِيْلَ ادْعُوْا شُرَكَآءَكُمْ فَدَعَوْهُمْ فَلَمْ يَسْتَجِيْبُوْا لَهُمْ وَرَاَوُا الْعَذَابَ ۚ لَوْ

او همیشه دی ایا پس عقل نه کار نه اخلئ (٦٠) ایا پس هغه خوك چه وعده کړیده مونږ دَ هغه سره وعده خائسته پس هغه به مخامخ کیدونکے دَ هغے وی پشان دَ هغه چاچه مزے ورکړے وی مونږ مزے دَ ژوند دنیوی بیا هغه په ورځ دَ قیامت به دَ حاضر کړے شوؤ نه وی (په عذاب کښ) (٦١)اوپه کومه ورځ چه اواز به ورکړے دوی ته پس وائی به کوم ځائے دی برخے والا زما هغه چه تاسو پرے ګمان کوؤ (٦٢) اوبه وائی هغه کسان چه پوره شوے دے په هغوی باندے حکم دَ عذاب اے ربه زمونږه دا هغه خلق دی چه ګمراهئے ته رابللی دی مونږ، ګمراهئے ته رابللے دی مونږ دوی لره لکه چه مونږه ګمراه ؤو بیزاری مخکښ کوؤ مونږ تاته نه وؤ دوی مونږ لره عبادت کوؤنکی (٦٣) او اوبه وئیلے شی را اوبلئی شریکان ستاسو نو دوی به ورته اواز ورکړی پس وربه نکړی هغوی هیڅ جواب دوی ته او دوی به اوینی عذاب لره (وائی به) ارمان دے

[٦٠] دَ دے ایت نه ترآخردَ سورة پورے دریم باب دے په دیکښ تزهید فی الدنیا دے اوفرق په مینځ دَ اهل دنیا اواهل آخرت کښ دے۔ بیا تخویف اخروی دے اوپه هغے کښ ئے درے سوالات ذکرکړی دی بیا عقلی دلیلونه دی بیا تخویف اخروی دے بیا واقعه دَقارون ده په تخویف دنیوی سره اوبیا امورمتفرعه دی اوخطابات دَ نبی ﷺ دی په تشجیع سره اواختتام دے په کلماتو دَ توحید سره۔په دے ایت (٦٠) کښ تزهید فی الدنیا دے په ذکردَ فرق سره په مینځ دَ متاع دَ دنیا اودَ ثواب دَ اخرت کښ دَ دنیا څیزونه دوه قسمه دی دَ بعضے نه دَ خوراك څکاك پوشاك وغیره فائدے اخستلے کیږی اوبیا زرفنا شی دیته متاع وائی او بعضے څیزونونه هیڅ فائده نه اخستلے کیږی صرف ډول ډال دپاره وی هغے ته زینت وائی۔

[٦١] په دے کښ بیان دَ فرق دے په مینځ دَ دنیاپرستواودَجنتیانوکښ ﴿مِنَ الْمُحْضَرِيْنَ﴾ مراد دَ دے نه مشرکین او نافرمان دی دَ دے وجے نه روستودَ مشرکانو دپاره تخویف ذکرکوی۔

[٦٢] په دے کښ تخویف اخروی دے مشرکینو(دنیاپرستو) ته۔ په دے ایت کښ اول سوال ذکردے په باره دَ متبوعینو ګمراهانوکښ چه هغوی خپل تابعداران ګمراهئ ته رابلی لکه مشرکان اومبتدعین پیران اوملایان ﴿تَزْعُمُوْنَ﴾ تاسو دعویٰ کوله چه دا زمونږسفارشیان اودَ اللّٰه تعالیٰ شرکاء دی۔

[٦٣] په دے ایت کښ جواب دَ متبوعینوذکرشویدے اودوی دَ دے وجے نه جواب کوی چه ضمناً په دوی باندے اعتراض دے چه تاسوخپل تابعداران ولے ګمراه کړی دی حاصل دَ جواب دا دے چه مونږ په زور نه دی ګمراه کړی بلکه مونږ صرف دعوت دَګمراهئ ورکړے دے نودوی پخپله خوښه زمونږ تابعداری کړے وه ﴿حَقَّ عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ﴾ مرادترینه فیصله دَعذاب دَ اللّٰه تعالیٰ ده په دوی باندے په دے قول چه (لَاَمْلَئَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ اَجْمَعِيْنَ) هود:١١٩ ﴿اَغْوَيْنَا﴾ اول دَپاره دَ تسلیم دَ دعوے دے چه

اَنَّهُمْ كَانُوْا يَهْتَدُوْنَ ﴿٦٤﴾ وَيَوْمَ يُنَادِيْهِمْ فَيَقُوْلُ مَاذَآ اَجَبْتُمُ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿٦٥﴾ فَعَمِيَتْ عَلَيْهِمُ الْاَنْۢبَآءُ
يَوْمَئِذٍ فَهُمْ لَا يَتَسَآءَلُوْنَ ﴿٦٦﴾ فَاَمَّا مَنْ تَابَ وَاٰمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَعَسٰٓى اَنْ يَّكُوْنَ مِنَ الْمُفْلِحِيْنَ ﴿٦٧﴾
وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ وَيَخْتَارُ ؕ مَا كَانَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ ؕ سُبْحٰنَ اللّٰهِ وَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿٦٨﴾

چه دوی پوهیدلے (چه دا شریکان هیڅ مدد نشی کولے) (٦٤) اوپه کومه ورځ چه اواز به ورکړی دوی ته نواُوائی به څرنګه جواب ورکړے وؤ تاسورسولانوته (٦٥) نو پټ به شی په دوی باندے دلیلونه په دغه ورځ نودوی به دَ یوبل نه هیڅ تپوس نشی کولے (٦٦) پس هر چه هغه څوك دی چه توبه ئے کړے ده دَ شرك نه او ایمان ئے راوړے دے او عمل ئے کړیدے برابر دَ سنت سره نو خامخا وی به هغه دَ کامیابونه (٦٧) او رب ستا پیدا کوی څه چه اوغواړی او خپله خوښه کوی نیشته دے مخلوق لره هیڅ اختیار (دَ خدائیتوب) پاکی ده اللّٰه تعالٰی لره او اوچت دے دَ هغے نه چه دوی ورله شریکان ګڼری (٦٨)

هاں مونږ ګمراه کړی دی۔ بیا تفصیل دَ جواب دے په دویم اغوینا سره یعنی مونږګمراهئی ته دعوت ورکړے دے ﴿كَمَاغَوَيْنَا﴾ یعنی دوی په خپله خوښه ګمراه شول له چه مونږپه خپل اختیارسره ګمراه شوی وؤیاکاف په کما کښ دَپاره دَعلت دے ﴿تَبَرَّاْنَآ اِلَيْكَ﴾ یعنی مونږباندے دَ دوی دَ وجے نه ملامتیا نیشته﴿مَاكَانُوْٓا اِيَّانَا يَعْبُدُوْنَ﴾ یعنی دوی مونږلره صرف اطاعت کړے دے عبادتونه ئے نور بزرګانو لره کړے دی۔ نودَ هغوی نه دے هم تپوس او کړے شی۔

[٦٤] دادویم سوال دے اود اپه باره دَهغه بزرګانوکښ دے چه دوی ورله عبادت کوؤاوهغوی ترینه هیڅ خبرنه لری ﴿لَوْ اَنَّهُمْ كَانُوْا﴾ لو دپاره دَتمنا دے یعنی چه دوی به افسوس اوارمان اوکړی په هدایت پسے یا لَوشرطیه دے اوجزائے محذوف ده اومراد دَ يَهْتَدُوْنَ نه دا دے که دوی ته علم وے چه دابزرګان زمونږدَعبادتونونه خبرنه لری نودوی به دَاللّٰه تعالٰی سره نه شریکولے۔

[٦٥] دا دریم سوال دے په باره دَ اِتِّبَاع دَ رسولانوکښ یعنی دواړه سوالونه په باره دَ توحید کښ وؤ اودا سوال په باره دَ اتباع سنت کښ دے ﴿اَجَبْتُمْ﴾ یعنی اجابت قولی اوعملی هم کړے وؤیا مخالفت هم کړے وؤ۔

[٦٦] ﴿الْاَنْۢبَآءُ﴾ دَدے نه مراد هغه تاویلات او توجیهات وؤ چه دوی به دَ رد کولو دَ سنت دَ پاره پیش کول، او اختراعی دلیلونه ئے جوړ کړی وؤنودَ هغے دَ هیریدلو په وجه باندے به دومره هیبت زده شی چه دَ یوبل نه به هم تپوس نشی کولے۔

[٦٧] دا تخویف نه روستو بشارت دے مؤمنانوته ۔﴿فَعَسٰى﴾ عسیٰ ، دَکریم او دَ شریف دَ طرف نه دپاره دَ تحقیق راځی۔

[٦٨] پس دَتخویف دَ مشرکانواودَ بشارت دَ مؤحدینونه عقلی دلیلونه ذکرکوی دپاره دَ رد دَ شرك اودَ اثبات دَ توحید اوپه دے دلیل کښ اشاره ده چه چاله توفیق ورکوی دَ ایمان اوعمل صالح۔ اوچاله نه ورکوی دا دَ اللّٰه تعالٰی اختیاردے اودا اول عقلی دلیل دے﴿مَاكَانَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ﴾ مراد دَ خِيَرَة نه اختیار او تصرف دَ الوهیت دے دا دَ ټول مخلوق نه حقیقةً نفی ده په دے کښ هغه اختیارمرادنه دے کوم چه موقوف علیه دَپاره دَتکلیف دَاحکامو راځی اودا دلیل دے چه پیغمبرته مختارکل وئیل شرکی کلمه ده ﴿سُبْحٰنَ اللّٰهِ﴾

وَرَبُّكَ يَعْلَمُ مَا تُكِنُّ صُدُوْرُهُمْ وَمَا يُعْلِنُوْنَ ﴿٦٩﴾ وَهُوَ اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ؕ لَهُ الْحَمْدُ فِي الْاُوْلٰى
وَالْاٰخِرَةِ ز وَلَهُ الْحُكْمُ وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿٧٠﴾ قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ جَعَلَ اللّٰهُ عَلَيْكُمُ الَّيْلَ سَرْمَدًا اِلٰى
يَوْمِ الْقِيٰمَةِ مَنْ اِلٰهٌ غَيْرُ اللّٰهِ يَاْتِيْكُمْ بِضِيَآءٍ ؕ اَفَلَا تَسْمَعُوْنَ ﴿٧١﴾ قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ جَعَلَ اللّٰهُ عَلَيْكُمُ
النَّهَارَ سَرْمَدًا اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ مَنْ اِلٰهٌ غَيْرُ اللّٰهِ يَاْتِيْكُمْ بِلَيْلٍ تَسْكُنُوْنَ فِيْهِ ؕ اَفَلَا تُبْصِرُوْنَ ﴿٧٢﴾

او رب ستا پوهه دے په هغه څه چه پټوی سینے دَ دوی او هغه چه دوی ښکاره کوی (٦٩) او هغه الله دے نیشته حق دار دَ بندګئ سیوا دَ هغه نه خاص هغه لره ستائینه دَ خدائی توب ده په دنیا کښ او اخرت کښ او خاص هغه لره اختیار دے او خاص هغه ته به ورګرځولے شئے (٧٠) اُوایه خبر راکړئے که چرے اوګرځوی الله تعالیٰ په تاسو باندے شپه همیشه تر ورځ دَ قیامت پورے څوک دے واکدار سیوا دَ الله تعالیٰ نه چه راولی تاسو لره رنړا دَ نمر ایا پس تاسونه اورئے (٧١) اُوایه خبر راکړئے که چرے اوګرځوی الله تعالیٰ په تاسو باندے ورځ همیشه تر ورځ دَ قیامت پورے څوک دے واکدار سیوا دَ الله تعالیٰ نه چه راوړی تاسوته شپه چه ارام به کوئے په هغے کښ ایا پس تاسونه وینئے (٧٢)

دا تفریع دَمسئلے دَتوحید ده په ماقبل دلیل باندے۔

[٦٩] دا دویم دلیل عقلی دے په باره دَعلم دَ الله تعالیٰ کښ روستودَبیان دَصفت دَتصرف نه۔ هرکله چه علم دَخفی (پټ) مستلزم نه دے علم دَ ښکاره لره ځکه چه دَ هغے دپاره کله نورموانع هم وی دَ دے وجے نه ﴿يُعْلِنُوْنَ﴾ ئے مستقل ذکرکړو۔

[٧٠] دا تفریع دَتوحید ده په تیرشوی دلیلونوباندے اوپه دے ایت کښ څلورکلمات دَ توحید دی۔ توحید دَ الوهیت، توحید دَ صفاتو، توحید دَ حکم، توحید دَ جزا اوحساب۔

[٧١] دا دریم دلیل عقلی دے اودا اعترافی سکوتی دے ځکه چه دَ مخاطب نه تپوس شویدے اودَ هغه چپوالے ئے نقل کړیدے اوپه دے ایت کښ دَ الله یوتفسیردے چه نمر راخیژولے شی یعنی چه نمرکښ تصرف کوی هغه ته الله وئیلے کیږی۔ داچه په جاهلانوکښ قصه مشهوره ده چه شمس تبریزبابا په ملتان باندے نمرراکوزکړے دے دا دروغ دی منګړت قصے دی اودَ شرك عقیده ده ځکه چه نمرکښ تصرف کول صرف دَ الله تعالیٰ شان دے ﴿اِنْ جَعَلَ﴾ ابن کثیرذکرکړیدی چه جزا دَ دے شرط محذوف ده یعنی لَاضَرَّ ذالك بهم (ضرور به دا تکلیف ورکوی دویته) اومَنْ اِلٰهٌ ئے هم جزاکیدیشی۔

[٧٢] دا څلورم دلیل عقلی اعترافی سکوتی دے یعنی نمرغائب کول اوشپه راوستل صرف دَ الله تعالیٰ اختیارکښ دی۔

فائده: په اول ایت کښ دَشپے دَ دوام ذکردے اودَ شپے اوریدل کیږی لیکن لیدل نه کیږی دَ دے وجے نه دَهغے سره ئے اَفَلَا تَسْمَعُوْنَ ذکرکړواوپه دویم ایت کښ دَ ورځے دَ دوام ذکر دے اوپه ورځ کښ لیدل کیږی دَ دے وجے نه اَفَلَا تُبْصِرُوْنَ ئے ذکرکړو۔

وَمِنْ رَّحْمَتِهٖ جَعَلَ لَكُمُ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ لِتَسْكُنُوْا فِيْهِ وَلِتَبْتَغُوْا مِنْ فَضْلِهٖ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿٧٣﴾
وَيَوْمَ يُنَادِيْهِمْ فَيَقُوْلُ اَيْنَ شُرَكَآءِيَ الَّذِيْنَ كُنْتُمْ تَزْعُمُوْنَ ﴿٧٤﴾ وَنَزَعْنَا مِنْ كُلِّ اُمَّةٍ شَهِيْدًا
فَقُلْنَا هَاتُوْا بُرْهَانَكُمْ فَعَلِمُوْٓا اَنَّ الْحَقَّ لِلّٰهِ وَضَلَّ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴿٧٥﴾ ع اِنَّ قَارُوْنَ
كَانَ مِنْ قَوْمِ مُوْسٰى فَبَغٰى عَلَيْهِمْ ۠ وَاٰتَيْنٰهُ مِنَ الْكُنُوْزِ مَآ اِنَّ مَفَاتِحَهٗ لَتَنُوْٓاُ بِالْعُصْبَةِ
اُولِي الْقُوَّةِ ۗ اِذْ قَالَ لَهٗ قَوْمُهٗ لَا تَفْرَحْ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْفَرِحِيْنَ ﴿٧٦﴾ وَابْتَغِ فِيْمَآ اٰتٰىكَ اللّٰهُ
الدَّارَ الْاٰخِرَةَ وَلَا تَنْسَ نَصِيْبَكَ مِنَ الدُّنْيَا وَاَحْسِنْ كَمَآ اَحْسَنَ اللّٰهُ اِلَيْكَ وَلَا تَبْغِ الْفَسَادَ

او دَ وجے دَرحمت دَ اللّٰه تعالیٰ نه ګرځولے ئے ده تاسو لره شپه او ورځ دے دپاره چه ارام اوکړئے په شپه کښ او دپاره دَ دے چه لټوئے فضل دَ اللّٰه تعالیٰ په ورځ کښ او دپاره دَ دے چه شکر اوکړئے (۷۳) اوپه کومه ورځ چه آواز به ورکړی دوی ته نو اوبه وائی کوم ځائے دے برخے والا زما هغه چه تاسو ګمان کؤو (۷٤) او را اوباسو به دَ هر امت نه ګواهی کوؤنکے پس اوبه وایو مونږ راوړئے دلیل ستاسو (په شرك باندے) نو دوی به پوهه شی چه یقیناً حق دَ خدائیتوب خاص دَ اللّٰه تعالیٰ دے او ورك به شی دَ دوی نه هغه چه دوی دروغ جوړول (۷۵) یقیناً قارون وؤ دَ قوم دَ موسیٰ(علیه السلام) نه نو زیاتے ئے اوکړو په دوی باندے او ورکړے وے مونږ دهٔ ته دَ خزانو نه په دومره قدر چه دَ هغے چابیانے خامخا درنے به وے په یوه ډله طاقتوره باندے کله چه اُوئیل دهٔ ته قوم دَ دهٔ لوئي مه کوه یقیناً اللّٰه تعالیٰ مینه نه کوی دَ لوئي کوؤنکو سره (۷٦) او اولټوه په هغے کښ چه درکړی دی تاته اللّٰه تعالیٰ کور روستنے اومه هیره وه برخه خپله دَ دنیا نه اواحسان کوه ځکه چه اللّٰه تعالیٰ احسان کړیدے تاته اومه لټوه فساد

[۷۳] دا پنځم عقلی دلیل دے په دے کښ دی چه دَ شپے او دَ ورځے نظام چلول او دَ هغے په ترتیب سره فائدے پیدا کول دَ اللّٰه تعالیٰ تصرف اواختیاردے۔ ﴿وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ﴾ دَ دے نه مراد توحید منل دی۔

[۷٥،۷٤] دا تخویف اخروی دے اوکوم چه په (٦۳) کښ تیرشوپه هغے کښ مراد فساد دَ عقیدے دَ دوی وؤ اوپه دے آیت کښ مراد دا دے چه دَ دوی شرك بے دلیله دے اومراد دَ شهیدًا نه هغه ځوك دے چه دوی ته ئے دعوت اوتبلیغ کړے وؤهغه به شهادت اوکړی دوی ته دَ تبلیغ کولوچه مادوی ته تبلیغ کړے وؤاوشهادت به اوکړی دَدوی دَانکارکولو ﴿اَلْحَقَّ﴾ مراد دَ دے حق دَعبادت اوالوهیة دے ﴿مَا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ﴾ هغه شرکی قصے په باره دَ اولیاؤ کښ چه دوی دَ ځان نه جوړے کړیدی۔

[۷٦] دا دَ تخویف دنیوی دَپاره مثال دے تعلق لری دَ (٦۰) سره اودارنګ په دے واقعه کښ دلیل دے چه مشرك اوکافرسره په وخت دَ عذاب راتللوکښ هیڅوك امداد نشی کولے نه دَهغه معبودان باطله اونه مالونه اونه خدمتګاران اونه مریدان لکه چه دَقارون حال په (۸۱) کښ دغسے بیان کړے شوے دے ﴿مِنْ قَوْمِ مُوْسٰى﴾ مشهوره دا ده چه دے دَموسیٰ(علیه السلام) دَترهٔ ځوئے وؤدَموسیٰ(علیه السلام) پلارعمران بن قاهث وؤاودَ قارون پلاریصهربن قاهث وؤ ﴿فَبَغٰى عَلَيْهِمْ﴾ دایوجامع لفظ دے شامل دے کفر اوشرك اوتکبراوظلم کولوته ﴿وَاٰتَيْنٰهُ﴾ داسبب دَ بغی دے لفظ دَکنوزاومفاتح اوتنوء اوعصبه او اولی القوة ښکاره دلیل دے چه

فِي الْاَرْضِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْمُفْسِدِيْنَ ﴿٧٧﴾ قَالَ اِنَّمَآ اُوْتِيْتُهٗ عَلٰى عِلْمٍ عِنْدِيْ ؕ اَوَلَمْ يَعْلَمْ اَنَّ اللّٰهَ قَدْ اَهْلَكَ مِنْ قَبْلِهٖ مِنَ الْقُرُوْنِ مَنْ هُوَ اَشَدُّ مِنْهُ قُوَّةً وَّ اَكْثَرُ جَمْعًا ؕ وَلَا يُسْـَٔلُ عَنْ ذُنُوْبِهِمُ الْمُجْرِمُوْنَ ﴿٧٨﴾ فَخَرَجَ عَلٰى قَوْمِهٖ فِيْ زِيْنَتِهٖ ؕ قَالَ الَّذِيْنَ يُرِيْدُوْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا

په ملك كښ يقيناً اللّٰه تعالىٰ نه كوى مينه دَ فساد كوؤنكو سره (٧٧) اُوئيل هغه يقيناً راكړے شويدى ماته دا دَوجے دَ علم نه چه ماسره دے ايا دے نه پوهيږى چه يقيناً اللّٰه تعالىٰ هلاك كړيدى مخكښ دَ دهٔ نه دَ پيړو نه هغه څوك چه ډير كلك وؤ دَ دهٔ نه په طاقت كښ او ډير وؤ په ډله كښ او ټپوس نه كيږى دَ ګناهونو دَ دوى دَ مجرمانونه (٧٨) نو را اوتلو دے په قوم خپل باندے په ډول خپل كښ اُوئيل هغه كسانو چه غوختلو دوى ژوند دنيوى

دَ دهٔ مالونه دَحصراودَ شمارے نه بهروؤ اوكنوزكښ اشاره ده چه ښكاره مال ئے دَ دے نه علاوه وؤدا خوپتے جمع كړے شوے خزانے وے اواشاره ده چه دَ هغے نه ئے زكوٰة صدقه فى سبيل اللّٰه نه وركوله ځكه چه كنزهغه مال ته وئيلے كيږى چه زكوٰة ترينه نه اداكيږى اووقت دَ اظهاردَ بغى دا دے ﴿اِذْقَالَ لَهٗ قَوْمُهٗ لَاتَفْرَحْ﴾ ديته فَرِحَ بَطِر وئيلے كيږى چه دَ هغے دَ وجے نه شرك كوى اوقيامت هيركړى اوعاقبت باندے سوچ نه كوى۔ اودَ اللّٰه تعالىٰ دَعذاب نه نه ويريږى۔

[٧٧] دَ دهٔ قوم (چه په هغے كښ موسىٰ عليه السلام هم داخل دے) دهٔ ته دعوت دَحق وركړو چه په هغے كښ درے مناهى (فرح، نسيان، نصيب دنيا، فساد) ذكردى اودوه اوامر وَابْتَغِ، اَحْسِنْ، اودوه ترغيبات (اِنَّ اللّٰهَ لَايُحِبُّ الْفَرِحِيْنَ) او(اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْمُفْسِدِيْنَ) ذكركړيدے ﴿وَابْتَغِ فِيْمَآ اٰتَاكَ اللّٰهُ الدَّارَ الْاٰخِرَةَ﴾ په دے كښ اشاره ده ټولوجوانبودَتوحيد ته اوعقيده دَ آخرت اودَجنت ته ﴿وَلَاتَنْسَ نَصِيْبَكَ﴾ برخه دَ انسان په خپل مال كښ دَ خوراك څكاك پوشاك نه علاوه دا ده چه دَ اللّٰه تعالىٰ په لاركښ خرچ كړى اودارنګ خپل صحت اوقوت اوځوانى دَ اللّٰه تعالىٰ دپاره صرف كړى ﴿وَاَحْسِنْ﴾ په دے كښ جميع اعمالودَخيرته اشاره چه هغه مالدارى چه دَ دين خدمت پرے اوكړيشى داهم دَ اللّٰه تعالىٰ احسان دے ﴿وَلَاتَبْغِ الْفَسَادَ﴾ دَ مال په قوت سره دَكفراوشرك په دنياكښ اشاعت كول دا لوئے فساد دے۔

[٧٨] دا ذكردَ هغه دَبغى دے په انكاردَ نعمت دَ اللّٰه تعالىٰ سره اوتبليغ وربانده اثراونكړوبلكه (اَتَاكَ اللّٰهُ وَ اَحْسَنَ اللّٰهُ اِلَيْكَ) نه ئے انكاراوكړوچه دامالونه ماپه خپل هنراوتجارت وغيره سره پيداكړيدى يعنى اللّٰه تعالىٰ نه دى راكړى ﴿عَلٰى عِلْمٍ عِنْدِيْ﴾ مراد دَ دے نه هنراوتجارت دے اوداسے په سورة زمر (٤٩) كښ ذكردى اوفرق هلته ذكركيدے شى ﴿اَوَلَمْ يَعْلَمْ﴾ كښ ئے توبيخ اوقباحت دَحال دَ قارون ذكركړے دے چه سرهٔ دَ دے چه دَ فرعون دَقوت دَفوج اودَ ډيروالى دَ مال نه اوبيا دَ هغه دَ هلاكت نه پخپله مشاهدے سره خبروؤبياهم دهٔ عبرت حاصل نه كړلو ﴿وَلَا يُسْـَٔلُ﴾ اشاره ده چه په وخت دَ عذاب دنيوى يا اخروى راتللوكښ دَمجرم نه ټپوس نه كيږى دپاره دَ دے چه څه عذرپيش نه كړى ځكه چه په دغه وخت كښ عذرنه قبليږى نوټپوس ته هم ضرورت نيشته۔

فائده: سورة اعراف (٦) اوسورة حجر (٩٢) كښ ټپوس كول ذكرشويدى اوپه دے ايت كښ اوسورة

يٰلَيْتَ لَنَا مِثْلَ مَآ اُوْتِيَ قَارُوْنُ ۙ اِنَّهٗ لَذُوْ حَظٍّ عَظِيْمٍ ۝ وَقَالَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ وَيْلَكُمْ
ثَوَابُ اللّٰهِ خَيْرٌ لِّمَنْ اٰمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا ۚ وَلَا يُلَقّٰىهَآ اِلَّا الصّٰبِرُوْنَ ۝ فَخَسَفْنَا بِهٖ وَبِدَارِهِ
الْاَرْضَ ۫ فَمَا كَانَ لَهٗ مِنْ فِئَةٍ يَّنْصُرُوْنَهٗ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۫ وَمَا كَانَ مِنَ الْمُنْتَصِرِيْنَ ۝
وَاَصْبَحَ الَّذِيْنَ تَمَنَّوْا مَكَانَهٗ بِالْاَمْسِ يَقُوْلُوْنَ وَيْكَاَنَّ اللّٰهَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ مِنْ

هائے ارمان دے چه وے مونږ لره پشان دَ هغے چه ورکړے شوے دے قارون ته یقیناً دے خاوند دَ برخے لوئے دے (۷۹) او اُوئیل هغه کسانو چه ورکړے شویدے هغوی ته علم تعجب دے په تاسو باندے ثواب دَ اللّٰه تعالیٰ غوره دے هغه چاله چه ایمان ئے راوړے دے او عمل ئے کړے دے برابرد سنت سره اونه ورکیږی دا خصلت مګر صبر ناکوته (۸۰) نو خخ کړو مونږ دهٔ لره او کورونه (خزانے) دَ دهٔ زمکه کښ پس نه وه دهٔ لره هیڅ ډله چه مدد ئے دَ دهٔ کړے وے سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه اونه وؤ دے دَ بدله اخستونکو نه (۸۱) او صبا کړو هغه کسانو چه ارمان ئے کړے وؤ دَ حالت دَ دهٔ پرون وئیل ئے عجیبه ده یقیناً اللّٰه تعالیٰ فراخوی روزی هغه چا لره چه اوغواړی دَ

رحمٰن (۳۹) کښ ټپوس نه کول ذکرشویدی۔دَ دے یوتطبیق دا دے چه دَ نفس ګناه کولوټپوس ترینه نه کیږی اودَګناه دَ سبب اودَکیفیت ټپوس به کیږی۔ دویم تطبیق دا دے چه دَتوبیخ اوملامته کولودَپاره ټپوس کیدے شی اودَځان خبرَولودَپاره ټپوس نه کیږی ځکه چه اللّٰه تعالیٰ عالم دے۔ دریم داچه دَعذاب نه رواندے دَحساب په وخت کښ ټپوس به کیدیشی اوپه عذاب کښ دَ داخلیدلوپه وخت کښ ټپوس نه کیږی دپاره دَ دے چه څه عذرپیش نه کړی۔ څلورم دا چه المجرمون نه مراد نورمجرمان دی ۔ یعنی دَ یوقسم دَ مجرمانودَ جرم دَ بل مجرم نه ټپوس نه کیږی۔

[۷۹] په دے ایت کښ ذکردَ بل بغاوت دَهغهٔ دے، یعنی خپل تکبرعملاً ښکاره کول لکه نن چه بعض بادشاهان خپل جشن مناووی۔یا بعضِ پیران خپل عرسونه په خپل ژوند جوړوی اوخپل زیب وزینت په هغے کښ ښکاره کوی ﴿قَالَ الَّذِيْنَ يُرِيْدُوْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا﴾ اګر چه مسلمانان وؤ لیکن دنیا پرست اوناپوهه وؤهغوی دا تمنا ښکاره کړه اوقارون ته ئے دَ لوئے برخے خاوند اُوئیل لکه اوس هم جاهلان خلق دَ سرمایه دارانو او نوابانو دَ حال ارمان کوی اودَ هغوی صفتونه کوی۔

[۸۰] دا وعظ دے دغه جاهلانوته دَ دنیادَ ذلت، په مقابله دَ آخرت کښ ﴿الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ﴾ معلومه شوه چه عالمان دَ اللّٰه تعالیٰ په نیزهغه کسان دی چه مالونه اوجاه دَ دنیا باندے هیڅ اعتبارنه کوی۔ ﴿وَيْلَكُمْ﴾ ئے دلته دَپاره دَتعجب اودَ زورنے ذکرکړے دے اوپه دے لفظ راوړلوکښ اشاره ده چه په روستومضمون باندے یقین اونکړی نوهلاك به شی ﴿ثَوَابُ اللّٰهِ﴾ مراد دَ دے نه نعمتونه دَآخرت اودَ دنیا دی چه په برکت دَایمان اوعمل صالح سره حاصلیږی ﴿وَلَا يُلَقّٰىهَآ﴾هَا ضمیردغه نصیحت اوخصلت ته راجع دے کوم چه دَ تیرے شوے جملے نه معلوم شویعنی زهد په دنیاکښ او رغبت په آخرت کښ۔

[۸۱] تیرشوے بغاوت اوتکبر ښکاره کول سبب شودَعذاب دَ دهٔ۔ دے متکبرځان اوچت ګڼلونواللّٰه

عِبَادِهٖ وَيَقْدِرُ ۚ لَوْلَآ اَنْ مَّنَّ اللّٰهُ عَلَيْنَا لَخَسَفَ بِنَا ؕ وَيْكَاَنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الْكٰفِرُوْنَ ﴿۸۲﴾ تِلْكَ الدَّارُ ع
الْاٰخِرَةُ نَجْعَلُهَا لِلَّذِيْنَ لَا يُرِيْدُوْنَ عُلُوًّا فِى الْاَرْضِ وَلَا فَسَادًا ؕ وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِيْنَ ﴿۸۳﴾ مَنْ
جَآءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهٗ خَيْرٌ مِّنْهَا ۚ وَمَنْ جَآءَ بِالسَّيِّئَةِ فَلَا يُجْزَى الَّذِيْنَ عَمِلُوا السَّيِّاٰتِ

بندګانو خپلو نه او تنګوی ،که چرے احسان نه وے کړے اللّٰه تعالیٰ په مونږ باندے خامخا خخ کړی به ئے وے مونږ لره عجیبه ده یقیناً نشی بچ کیدے کافران (۸۲) هغه کور روستنے (جنت) خاص کؤو مونږ هغه چا لره چه نه غواړی لوئې په دنیا کښ اونه ورانے کول او انجام (ډخیر) دپاره دَ متقیانو دے (۸۳) چاچه راتلل اوکړل په نیکئ سره پس دهٔ لره غوره حال دے دَهغے دَ وجے نه او چاچه راتلل اوکړل په بدئ سره نو بدله نه شی ورکیدے هغه کسانو ته چه عملونه ئے کړیدی نا کاره

تعالیٰ ورله په زمکه کښ ښکته والے ورکړوحدیث صحیح کښ راغلی دی چه هغه انسان چه په زمکه کښ ئے لوئی کوله (اوخپله جامه ئے دَ ګیټونه کوزه کړے وه) نوپه زمکه کښ به خخ کړیشی اوترقیامته پورے به پکښ ښکته ورځی ﴿وَبِدَارِهٖ﴾ کورنه مراد ټولے خزانے دَ هغه دی ﴿فَمَا كَانَ لَهٗ مِنْ فِئَةٍ﴾ فِئَةٍ: هغه جماعت اوډلے ته وئیلے شی چه انسان ورته ځی راځی دَحاجتونواوضرور تونودپاره یعنی قارون چه اللّٰه تعالیٰ سره څوك شریکان ګنړل یاخپل نوکران فوجیان نوهغه هیڅوك ئے پکارنه شول ﴿وَمَا كَانَ مِنَ الْمُنْتَصِرِيْنَ﴾ یعنی خپل طاقت اوزورئے دومره نه وؤچه بدله ئے اخستلے وے اوداپه مقابله دَ زینت دَ دهٔ کښ اودَ دے قول کښ چه علی عِلْمٍ عندی۔

فائده: اوپه دے واقعه کښ تنبیه ده قریشوته اوآلِ رسول ته چه دوی اګرچه دَپیغمبرقوم دے اوخپلوان دی لیکن دَ رسول دَ دین نه چه بغاوت کوی نودَ قارون (چه قریب وؤ دَ موسیٰ علیه السلام وخت کښ) په شان به هلاك شی۔ اولیاء بزګان چه دی مددګاران ګنړی هغوی دوی سره مدد نشی کولے۔

[۸۲] داهم خوش قسمتی ده چه دَ یوبدکاره سړی دَ حال نه څوك عبرت واخلی اودَ اللّٰه تعالیٰ احسان اومنی چه دَ دغه بدحال نه ئے مونږبچ ساتلی یو ﴿وَيْكَاَنَّ اللّٰهَ﴾ یعنی دوی پوهه شول چه دَ رزق فراخی اوتنګسیا دَ اللّٰه تعالیٰ په مشیت اوپه اراده سره ده دا سبب دَکرامت نه دے۔ (وَے) لفظ دَتعجب دے اوګ په معنیٰ دَلام دے یعنی تعجب کوؤم دَ دے وجے نه اودَابن عباس رضی اللّٰه عنهما نه نقل دی چه وَيْكَاَنَّ په معنیٰ دَ (اَلَمْ تَرَ) دے ﴿مَنَّ اللّٰهُ عَلَيْنَا﴾ مَنَّ نه مراد توفیق دَ ایمان اواتباع دَ موسیٰ علیه السلام ده لکه چه سورة حجرات(۵۸) کښ دی ﴿وَيْكَاَنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الْكٰفِرُوْنَ﴾ داقول دَ دغه کسانودے یا قول دَاللّٰه تعالیٰ دے۔

[۸۳] دا تفریعات دی په واقعه دَ موسیٰ علیه السلام باندے۔ دا اوله تفریع ده په (۷۷،٤) باندے یعنی دَ دے قصے دَ فرعون اوقارون نه معلومه شوه چه دار الآخرة (جنت) صرف په تقویٰ سره حاصلیږی په علوتکبراوفساد سره که چرے حاصلیدلے نوفرعون هامان اوقارون ته به حاصل شوے وے۔

اِلَّا مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿٨٤﴾ اِنَّ الَّذِيْ فَرَضَ عَلَيْكَ الْقُرْاٰنَ لَرَآدُّكَ اِلٰى مَعَادٍ ؕ قُلْ رَّبِّيْٓ اَعْلَمُ مَنْ
جَآءَ بِالْهُدٰى وَمَنْ هُوَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿٨٥﴾ وَمَا كُنْتَ تَرْجُوْٓا اَنْ يُّلْقٰٓى اِلَيْكَ الْكِتٰبُ اِلَّا
رَحْمَةً مِّنْ رَّبِّكَ فَلَا تَكُوْنَنَّ ظَهِيْرًا لِّلْكٰفِرِيْنَ ﴿٨٦﴾ وَلَا يَصُدُّنَّكَ عَنْ اٰيٰتِ اللّٰهِ بَعْدَ اِذْ اُنْزِلَتْ اِلَيْكَ
وَادْعُ اِلٰى رَبِّكَ وَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿٨٧﴾ وَلَا تَدْعُ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ ۘ لَآ اِلٰهَ اِلَّا
هُوَ ؕ كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ اِلَّا وَجْهَهٗ ؕ لَهُ الْحُكْمُ وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿٨٨﴾

وقف لازم ۞ وقف جائز

مګرډ هغه عملونو چه دوی کول (٨٤) یقیناً هغه ذات چه فرض کړیدی په تا باندے رسَول دَ قرآن خامخا واپس کوی به تا لره ځائے دَ واپسئے ته اُوایه رب زما ښه پوهه دے په هغه چا باندے چه راتلل اوکړی په هدایت سره اوپه هغه چاچه هغه به وی په ګمراهئ ښکاره کښ (٨٥) اونه وے ته چه امید کوؤ تا دَ دے خبرے چه درښه کړیشی تاته کتاب مګر (درکړیدے مونږ تاته) دَ وجے دَ رحمت دَرب ستانه پس مه کیږه هیڅکله امدادی دَ کافرانو (٨٦) او وادے نه ړوی (دوی) تالره دَ اياتونو دَ اللّٰه تعالیٰ نه روستو دَ هغے نه چه نازل کړے شویدی تاته او بلنه کوه رب خپل ته اومه کیږه ته دَ مشرکانو دَ ډلے نه (٨٧) او رامدد شه مه وایه سره دَ اللّٰه تعالیٰ نه بل چاته چه اِلٰه ئے ګنړے نیشته مددګار مګر هغه دے هر څیز فناکیږی مګر مخ دَ هغه خاص هغه لره اختیار دے او خاص هغه ته به اوګرځولے شئے تاسو (٨٨)

[٨٤] دا علت دے دَ مخکښ ایت دپاره اوبیان دَ دے خبرے دے چه جزاء دَ جنس دَ عمل نه وی یعنی تقویٰ حسنه ده اوعلو، فساد سیئات دی دَ هریوجزا دَ هغے مناسب ده۔

[٨٥] په دے ایت کښ دوه تفریعات دی یوپه (٧) باندے اوبل په (٣٧) باندے اودا خطاب دے نبیﷺ ته دَپاره دَ تشجیع په دعوت باندے اودَ دے ایت نه نبی ته اته خطابات شروع شول ﴿مَعَادٍ﴾ مراد دَ دے نه مکه معظمه ده اوپه دے کښ پیشګوئی ده چه اے نبی ته به دَ دے کلی نه ویستلے کیږے اوبیابه دَ فتح په صورت کښ دے ته واپس راځے لکه موسیٰؑ چه دَ مورنه جداکړے شواوبیائے مورته واپس کړواودارنګ دَمصرنه اُوتلواوبیا ورته واپس راغے یا دَ معاد نه مراد جنت دے ﴿قُلْ رَّبِّيْٓ﴾ دا جواب دے دَ طعن کولو دَ کافرانو په نبیﷺ باندے چه ته په ګمراهئ کښ ئے۔

[٨٦] په دے کښ هم دوه تفریع دی اوله په (٧) باندے دویمه په (١٧)باندے په اوله تفریع کښ اشاره ده چه نبوت په رحمت دَ اللّٰه تعالیٰ سره حاصلیږی هغه کسبی څیزنه دے اوپه دویمه کښ تشجیع ده نبیﷺ ته اودا دلیل دے چه دَ کافرانو سره هرقسم امداد کول حرام دی۔

[٨٧] دا تشجیع ده نبیﷺ ته چه کافران مشرکان تاته دعوت دَ مداهنت درکوی او په قسم قسم دهوکوسره تا دَ قرآن دَ تبلیغ نه منع کوی لیکن دَ دوی خبره قبوله نه کړے اوپه دے ایت کښ دوه نهی اویوامر نبیﷺ ته ذکرکوی۔

[٨٨] داهم خطاب دَ تشجیع دے نبیﷺ ته مقصد په دے کښ تشجیع ده په مخالفت کولو سره دَ مشرکانو دَ طریقے دَ عبادت نه او داپنځه کلمات دَ توحید دی په اول کښ رد دَ شرك فی الدعاء دے او په

دویم کښ رد دَ شرك فی الالوهیة دے او په دریم کښ رد دَ شرك فی الصفات دے او په څلورم کښ رد دَ شرك فی الحکم دے او په پنځم کښ عقیده دَ بعث بعد الموت ده اوهغے کښ توحید فی الحساب ته اشاره ده۔ ﴿كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ إِلَّاوَجْهَهُ﴾ تحقیق دَدے ایت دادے چه كُلُّ شَيْءٍ کښ درے احتمالونه دی (۱): ټول موجودات، که ممکنات وی او که واجب وی نوشیءٍ په دے معنیٰ اللّٰه تعالیٰ ته هم شامل دے لکه سورة انعام (۱۹) کښ دی(۲): ټول ممکنات اودا دَ شيءٍ مشهوره معنیٰ ده (۳): ټول عملونه اوهالك کښ هم درے احتمالونه دی (۱): فناکیدونکے لکه په سورة رحمٰن (۲٦) کښ دی (۲): مشیت په اعتبار دَ ذات خپل محکه چه په وجودکښ اللّٰه تعالیٰ ته محتاج دی حاصلِ معنیٰ دَ دے محتاج اوممکن شو(۳): هالك په معنیٰ دَ غیرمقبول، او وجهه کښ درے احتمالونه دی (۱): مخ دَ اللّٰه تعالیٰ په ظاهرمعنیٰ سره دے اوتشبیه تمثیل دَمخلوق سره نیشته اوپه کیفیت باندے ئے اللّٰه تعالیٰ بنه پوهه دے او هم دا عقیده دَ سلف صالحین ده (۲) مخ دَ اللّٰه تعالیٰ سرهٔ دَ ذات نه یعنی ذات دَ اللّٰه تعالیٰ په طریقه دَ ذکردَ یوجُزء اوارادہ دَکُل (اودا په طریقه دَ ممکناتو کښ ده او مونږذکرکړه په طریقه دَ نظیر سره) هغه عملونه چه دَ اللّٰه تعالیٰ دپاره اوکړے شی بیا په دے کښ درے سوالونه دی، سوال اول دا دے چه پدے جمله کښ استثناء متصل ده اوکه منقطع ده؟ اول جواب دا دے چه استثناء متصل ده محکه چه دَ شيءٍ اطلاق په اللّٰه تعالیٰ باندے صحیح دے لکه چه تیرشول یا دَ دے وجے نه چه كُلُّ شَيْءٍ نه مراد اعمال شی، او وجههٔ نه هم مراد عمل وی دپاره دَ اللّٰه تعالیٰ، نوپه دے دواړه صورتونوکښ مستثنیٰ داخل ده په مستثنیٰ مِنهُ کښ نو متصله ده ۔ دویم سوال دا دے چه هالك په معنیٰ دَ فانی دے یعنی هر ممکن به فنا کیږی نو معلومه شوه چه جنت او جهنم او ارواح وغیره به هم فنا کیږی ؟ جواب اول دادے چه كُلُّ شَيْءٍ اګر چه عام دے لیکن په وجه دَ نورو نصوصو سره دَ هغے نه اته څیزونه خاص کړیشوی دی چه هغه مفسرسیوطی او نورو مفسرینوذکرکړیدی، اوهغه په دے شعر کښ وائی ۔

ثَمَانِيَةٌ حُكْمُ الْبَقَاءِ يَعُمُّهَا ... مِنَ الْخَلْقِ وَالْبَاقُوْنَ فِيْ حَيِّزِ الْعَدَمِ
هِيَ الْعَرْشُ وَ الْكُرْسِيُّ وَنَارٌ وَجَنَّةٌ ... وَعَجْبٌ وَاَرْوَاحٌ كَذَاالْلَوْحُ وَالْقَلَمُ

(عجب په معنیٰ دَ ملا دَ هلپوکی دے)دویم جواب دا دے چه كُلُّ شَيْءٍ کښ استغراق حقیقی مراد نه دے بلکه استغراق عرفی مراد دے یعنی هرهغه شے چه پیدا کړے شویدے دپاره دَفناکیدلو۔دریم سوال دا دے چه وَجهَ مخ ته وئیلے کیږی نومعلومه شوه چه دَ مخ نه علاوه ید، عین، ساق وغیره صفتونه دَاللّٰه تعالیٰ په كُلُّ شَيْءٍ کښ داخل شول نوهغه په حکم دَ هالك کښ داخل شول اوداخومحال ده؟ اول جواب دا دے چه مخ ذکرشواومراد ترینه ټول ذات دے لکه چه مخکښ تیرشول نوید، عین وغیره هم په حکم دَ وجهَ کښ داخل دی۔دویم جواب دا دے چه په دے کښ حصرحقیقی نه دے مراد بلکه حصراضافی مراد دے یعنی په ذکردَ وَجهَ سره دَید اوعین وغیره نه احترازکول مراد نه دی بلکه حصردَ هلاکت په ممکناتوکښ مراد دے۔ نودَ دے جملے درے معانے دی۔ اوله معنیٰ هرځیزپه خپل وجودکښ محتاج اومعدوم دے سیوا دَمخ یا دَ ذات دَ اللّٰه تعالیٰ نه۔ دویمه معنیٰ، هرځیزچه فنا دَپاره پیداکړے شویدے نوهغه به فناکیږی سیوا دَمخ اودَ ذات دَ اللّٰه تعالیٰ نه۔ دریمه معنیٰ، هرعمل باطل اوبرباد دے سیوا دَهغه عمل نه چه دَ اللّٰه تعالیٰ دپاره اوکړیشی

سُوْرَةُ العَنكَبُوت (٢٩) مَكِّيَّةٌ (٨٥) — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — اٰيَاتُهَا ٦٩ رُكُوْعَاتُهَا ٧

الٓمّٓ ﴿١﴾ اَحَسِبَ النَّاسُ اَنْ يُّتْرَكُوْٓا اَنْ يَّقُوْلُوْٓا اٰمَنَّا وَهُمْ لَا يُفْتَنُوْنَ ﴿٢﴾ وَلَقَدْ فَتَنَّا الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ

الف لام میم (۱) ایا گمان کوی خلق چه پرے به خودلے شی دَ دے وجے نه چه وائی دوی ایمان راوړے دے مونږ او حال داچه په دوی باندے ازمیښت نه شی کیدے (۲) او یقیناً ازمیښت کړے دے مونږ په هغه کسانو چه دَ دوی نه مخکښ و و

(بقیه تفسیر دَ سورة القصص) دا روستنئ معنیٰ امام بخاری غوره کړیده اګرچه دَ نورو محققینو مفسرینو په نیزباندے غوره نه ده۔

تنبیه: په اوله معنیٰ باندے بعض متصوفودَوحدت الوجود دپاره استدلال کړیدے اواطلاق دَ وحدت الوجود ئے پرے کړے دے لیکن دا باطل اوفاسد قول دے ځکه چه کومه معنیٰ دَ وحدت الوجود چه دَعاموم‌تصوفوپه نیزمراد ده چه دَ هغے رجوع حلول ته ده، هغه خوکفردے اوکه بعض صوفیان دامعنیٰ کوی چه وجود حقیقی صرف وجود دَ اللّٰه تعالیٰ دے اودَ باقی موجوداتو وجود ته اعتبارنیشته نومعلومه شوه چه وجود خو صرف دَ اللّٰه تعالیٰ دے نودا اګرچه صحیح ده لیکن په دے باندے وحدت الوجود (چه باطله اصطلاح ده اوموهم لفظ دے) اطلاق کول ناجائزدی۔

سورة العنكبوت

ربط: دَ دے دَ سورة القصص سره په یوځو وجوهو سره دے اول داچه سورة القصص کښ تشجیع وه مؤمنانو ته په واقعه دَ موسیٰ علیه السلام سره نو په دے سورة کښ تشجیع ذکر کوی په واقعاتو دَ نوح او ابراهیم اولوط اوشعیب علیهم السلام سره، دویم داچه هغه سورة کښ تشجیع وه په مصیبتونو راتللو اجمالاً نو په دے سورة کښ تفصیل دَ هغے مصیبتونو دے۔

دعویٰ دَ دے سورة: دَ دے دوه دعوے دی اوله دعویٰ تشجیع ده په مصیبتونواومحنتونوتیرولوسره په دعوت دَ توحید کښ اودا په(۲)کښ ده۔ دویمه دعویٰ عدم نجات دَ مخالفینودے دَ عذاب نه په دنیا اوآخرت کښ اودا په (٤)کښ ده اودعویٰ دَ توحید دَ سورة په مینځ کښ په طریقه دَ مثال سره ده۔

خلاصه دَ دے سورة دا ده : چه دا تقسیم دے ځلورو بابونوته اول باب تر(١٤) پورے دے په دے باب کښ دواړه دعوے ذکر کړیدی اوروستو دَ هغے نه ځلورابتلاء آت ذکرکوی۔ اول پوره مجاهده کول په (٦)کښ دویم دعوت دَ والدینوشرك ته په (٨)کښ دریم اذیت دَعاموخلقودَ طرف نه په (١٠)کښ۔ ځلورم دعوت دَ مکذبینومداهنینوشرك ته اوتوحید پریخودلوته۔

تفسیر

[١] دا دَ مقطعاتونه دے دَ دے تفصیل تیرشوے دے۔

[٢] دا اوله دعویٰ دَ سورت ده یعنی صرف ایمان (اګرچه په اخلاص سره وی) دَجهنم نه دَ بچ

فَلَيَعْلَمَنَّ اللّٰهُ الَّذِيْنَ صَدَقُوْا وَلَيَعْلَمَنَّ الْكٰذِبِيْنَ ۝٣ اَمْ حَسِبَ الَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ السَّيِّاٰتِ اَنْ يَّسْبِقُوْنَا ؕ
سَآءَ مَا يَحْكُمُوْنَ ۝٤ مَنْ كَانَ يَرْجُوْا لِقَآءَ اللّٰهِ فَاِنَّ اَجَلَ اللّٰهِ لَاٰتٍ ؕ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ۝٥ وَمَنْ
جَاهَدَ فَاِنَّمَا يُجَاهِدُ لِنَفْسِهٖ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَغَنِيٌّ عَنِ الْعٰلَمِيْنَ ۝٦ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

پس خامخا ښکاره کوی به الله تعالی هغه کسانو لره چه رښتیا وائی او خامخا ښکاره کوی به دروغژنو لره (۳) ایا ګمان کوی هغه کسان چه عملونه کوی ناکاره چه بچ به شی دوی د عذاب زمونږ نه بده ده هغه فیصله چه دوی ئیے کوی (٤) هغه څوك چه عقیده لری د پیښیږ الله تعالی ته نو یقیناً نیټه د الله تعالی خامخا راتلونکے ده او هغه هر څه اوری او په هر څه پوهه دے (٥) او چاچه ځان اوکړوؤ پس یقیناً کړاؤ کوی دپاره د فائدے خپلے یقیناً الله تعالی خامخا بے پرواه دے د تمام خلقو نه (٦) او هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے اوعملونه ئے کړیدی برابر د سنت سره

کیدلو دپاره کافی نه دے بلکه د دعوے د ایمان سره تکلیفونه اومصیبتونه ضروری راځی ﴿اَنْ يُّتْرَكُوْٓا﴾ دلته عبارت کښ تقدیر دے یعنی مِنَ الإفتِتَان (د ابتلاء نه)او هُمْ لَايُفْتَنُوْنَ دَهغے تفصیل دے﴿وَهُمْ لَا يُفْتَنُوْنَ﴾ فتنه اوامتحان په دوه قسمه سره دے اول تکلیف تکوینیه یعنی مخالفت دَخلقواودَهغوی د طرف نه کنځل، غلطے فتوے لګول، وژل اومرضونه وغیره راتلل دویم تکالیف شرعیه عبادات، هجرت، جهاد وغیره دواړه قسمونه د ایمان سره لازم دی۔

[۳] دا تسلی ده مؤمنانوته په دے قول کښ فَلَيَعْلَمَنَّ اللّٰهُ آه، حکمت د امتحاناتو دے یعنی فرق د رشتینواودروغژنو ﴿الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ﴾ دَد ے نه مراد انبیاء علیهم السلام اومؤمنان مخکښنی دی اوخاصکر واقعه د موسیٰ علیه السلام چه مخکښ سورة کښ ذکرشویده۔

[٤] په دے ایت کښ دویمه دعویٰ دَسورة ده یعنی کوم خلق چه شرك اوکفرکوی اودَحق پرستو مخالفت کوی اوهغوی ته مکرونه جوړوی نوهغوی دَعذاب د الله تعالی نه بچ کیدے نشی اوپه دے کښ تخویف د کاذبینوته اشاره ده۔

[٥] دا متعلق دے د اولے دعوے سره په طریقه د ترغیب سره یعنی څوك چه د ملاقات د الله تعالی نه ویره کوی یا عقیده د هغے لری (پس تیاری دے دَهغے دَپاره اوکړی په مصیبتونوتیرولوسره) ﴿يَرْجُوْا لِقَآءَ اللّٰهِ﴾ مراد د دینه روية (دیدار)د الله تعالی دے په جنت کښ اودا ظاهره معنیٰ ده یا د لقاء نه مراد دوباره ژوندی کیدل دی یرجوا په معنیٰ د یعتقد سره دے اودَمن کان جزاء محذوفه ده یعنی فَلْيَصْبِرْ عَلَى البلايا (صبرد اوکړی په مصیبتونوباندے)۔

[٦] دا اول قسم د افتتان (امتحان) دے یعنی ځان کړوَل په ډیرمحنت کولو سره دَپاره د دعوت د ایمان او توحید او دا مجاهدے بدنی اومالی دواړوته شامل دی ۔اوفائده د دے کړاؤ د دغه شخص دپاره ده ځکه الله تعالی هغے ته محتاج نه دے۔

لَنُكَفِّرَنَّ عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ اَحْسَنَ الَّذِيْ كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝ وَوَصَّيْنَا الْاِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ
حُسْنًا ؕ وَاِنْ جَاهَدٰكَ لِتُشْرِكَ بِيْ مَا لَيْسَ لَكَ بِهٖ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا ؕ اِلَيَّ مَرْجِعُكُمْ فَاُنَبِّئُكُمْ بِمَا
كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ۝ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَنُدْخِلَنَّهُمْ فِي الصّٰلِحِيْنَ ۝ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّقُوْلُ
اٰمَنَّا بِاللّٰهِ فَاِذَآ اُوْذِيَ فِي اللّٰهِ جَعَلَ فِتْنَةَ النَّاسِ كَعَذَابِ اللّٰهِ ؕ وَلَئِنْ جَآءَ نَصْرٌ مِّنْ رَّبِّكَ لَيَقُوْلُنَّ

خامخا او به ریژ وؤ مونږ دَ دوی نه ګناهونه دَ دوی او خامخا بدله به ورکړو مونږ دوی ته ډیره خائسته بدله دَ هغه عملونو چه دوی کول (۷) او کلك حکم کړے دے مونږ انسان ته دَ مور اوپلار سره دَ ښه کولو او که چرے دوی زور چلوی په تا باندے دپاره دَ دے چه شریك جوړ کړے ته ما سره هغه څوك چه نیشته تا لره دَ هغوی په شرکت باندے هیڅ دلیل پس خبره مه منه دَ دے دواړو ماته پیشی ستاسو ده نو خبر به درکوؤم تاسوته په هغه عملونو چه تاسو ئے کوئے (۸) او هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے او عملونه ئے کړیدی برابر دَ سنت سره خامخا داخل به کړو مونږ دوی لره په ډله دَ نیکانو کاملانو کښ (۹) او بعضے دَ خلقو نه هغه څوك دی چه وائی ایمان راوړے مونږ په اللّٰه تعالیٰ باندے نو هر کله چه بدورته اُوئیلے شی په لار دَ اللّٰه تعالیٰ کښ او ګرځوی فتنه دَ خلقو په شان دَ عذاب دَ اللّٰه تعالیٰ او که چرے راشی مدد دَ طرف دَ رب ستانه خامخا وائی دوی

[۷] دابشارت اخروی دے اوبیان دَلِنَفسِهٖ دے اوپه دے ایت کښ دَعمل صالح نه دغه افتتان(امتحان) مراد دے او ﴿لَنُكَفِّرَنَّ﴾ اشاره ده چه دَجهنم نه به بچ وی ځکه چه تکفیردَ سیئاتو سبب دے دپاره دَ حفاظت دَ سزانه او ﴿وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ﴾ کښ اشاره ده چه جنت به حاصل کړی ﴿اَحْسَنَ الَّذِيْ﴾ په معنیٰ دَ هغه عمل دے چه بنا وی په اخلاص اواتباع سنت باندے اودا په مقابل دَ حسن کښ نه دے یا احسن نه مرا درجه دَ عزیمت ده او حسن نه مراد درجه دَ رخصت ده اوجزاء نه مراد پوره جزاء ده۔

[۸] دا دویم قسم افتتان دے یعنی کله به موراوپلاردعوت ورکوی اولاد مؤحدینو ته دَ شرك کولو او ډیره سختی به ورسره کوی دَ کورنه به ئے شړی، دَ عاق حکم به پرے کوی دپاره دَ دے چه توحید نه منع شی لیکن په دے کښ دَ هغوی طاعت کول جائزنه دی داهم لوئے امتحان دے او داسے په سورة لقمان (۱۵) کښ هم دی اوهلته به فرق ذکرشی۔

[۹] دابشارت متعلق دے دَ دویم افتتان سره چه په دغه امتحان کښ کامیاب شی نو دَ صالحینو جماعت کښ به داخل شی په دنیا اوبرزخ اوآخرت کښ او ﴿الصّٰلِحِيْنَ﴾ ئے دَدے وجے نه ذکر کړو چه نا پوهه خلق داسے شخص ته (چه دَ مور او پلار اطاعت په شرك کښ نه کوی) نافرمان اومفسد وائی نو اللّٰه تعالیٰ ورته صالح اُوئیل۔

اِنَّا كُنَّا مَعَكُمْ ؕ اَوَلَيْسَ اللّٰهُ بِاَعْلَمَ بِمَا فِيْ صُدُوْرِ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٠﴾ وَلَيَعْلَمَنَّ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَلَيَعْلَمَنَّ
الْمُنٰفِقِيْنَ ﴿١١﴾ وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّبِعُوْا سَبِيْلَنَا وَلْنَحْمِلْ خَطٰيٰكُمْ وَمَا هُمْ بِحٰمِلِيْنَ
مِنْ خَطٰيٰهُمْ مِّنْ شَيْءٍ ؕ اِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ﴿١٢﴾ وَلَيَحْمِلُنَّ اَثْقَالَهُمْ وَاَثْقَالًا مَّعَ اَثْقَالِهِمْ ز وَلَيُسْـَٔلُنَّ يَوْمَ
الْقِيٰمَةِ عَمَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴿١٣﴾ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا اِلٰى قَوْمِهٖ فَلَبِثَ فِيْهِمْ اَلْفَ سَنَةٍ اِلَّا خَمْسِيْنَ عَامًا ؕ

یقیناً مونږ ستا ملګری یو او آیا نه دے الله تعالی ښه خبر لرونکے په هغه خبرو چه په سینو د خلقو کښ دی (۱۰) او خامخا به ښکاره کوی الله تعالی هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے او خامخا به ښکاره کوی منافقانو لره (۱۱) او وائی هغه کسان چه کفرئے کړے دے هغه کسانو ته چه ایمان ئے راوړے دے تابعداری اوکړئے د لارے زمونږ اوپورته به کړو ګناهونه ستاسو او نه دی دوی پورته کوؤنکی د ګناهونو د هغوی نه هیڅ شے یقیناً دوی خامخا دروغژن دی (۱۲) او خامخا به پورته کوی دوی پیټی خپل او پیټی د ګمراه کولو سره د پیټو خپلونه او خامخا به تپوس کیدے شی د دوی نه په ورځ د قیامت د هغه چه دوی څه دروغ وئیل (۱۳) او یقیناً لیږلے وؤ مونږ نوح(علیه السلام) قوم د هغه ته نو حصار شو په هغوی کښ زر کلونه مګر پنځوس کاله

[۱۰] دا دریم افتتان دے یعنی د ایمان او د دعوت د حق د وجے نه خلق مخالف شی نو بعض انسان منافقت شروع کړی لیکن مؤمن لره د داسے منافقت نه بچ کیدل پکار دی ﴿فِتْنَةَ النَّاسِ﴾ یعنی د خلقو د مخالفت د ویرے نه حق خبره پریګدی یعنی څرنګه چه د عذاب د الله تعالی نه ویره پکار ده اوحق بیا نول ضروری دی نو داسے دوی د خلقو د مخالفت کولو او ایذاء نه ویره کوی او د حق کتمان اوکړی۔ ﴿نَصْرٌ﴾ غلبه، مالونه، عزت حاصل شی په سبب د ملګرتیا د مؤمنانوسره او داسے په سورة حج (۱۱) کښ هم دی ﴿اَوَلَيْسَ اللّٰهُ بِاَعْلَمَ﴾ دا زجردے په حال د دغه منافقانوباندے یعنی څوك آمناوائی دپاره د رضا د الله تعالی او څوك دپاره د حصول د دنیوی فائدو دواړه نیتونوباندے الله تعالی پوهه دے۔

[۱۱] دا نتیجه د دغه مخکښ ابتلاء ده یعنی چه څوك په وخت د اذیت اومخالفت د خلقوکښ په حق باندے ټینګ شونو هغه صحیح مؤمن دے په (۳) کښ د عامو ابتلاګانونتیجه وه چه په هغے سره صدق اوکذب معلومیږی اوپه دے ایت کښ د آمنّا سره متعلق ابتلاء وه نو هغه سبب د معرفت د اخلاص اود منافقت دے۔

[۱۲] دا څلورم امتحان دے یعنی کافران مشرکان به شرك ته دعوت ورکوی اود حق پتولوترغیب به ورکوی اووائی به چه د دے ازارګناه زمونږپه غاړه دی، زمخشری اوخطیب شربینی وئیلی دی چه داسے حالات نن په مسلمانانوکښ هم شروع شوی دی د حق پتولواود ګناه کولودعوت ورکوی اوورته وائی چه ازارګناه ئے زماپه غاړه ده ﴿وَلْنَحْمِلْ خَطٰيٰكُمْ﴾ دا په معنیٰ د شرط کښ دے یعنی که تاسو زمونږپه لارشوے نومونږپه ستاسود ګناهونوذمه وارشونود هغے رد ئے په دوؤطریقوسره اوکړو اول ﴿وَمَا هُمْ بِحٰمِلِيْنَ﴾ لکه چه لاتزروازرة وزراخری په سورة فاطر(۱۸) اوسورة نجم (۳۸) کښ۔ اودویم اِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ۔

[۱۳] دا رد دے د هغوی د قول په دریمه طریقه اوتخویف اخروی دے ﴿وَاَثْقَالًا﴾ د دے نه مراد هغه

فَاَخَذَهُمُ الطُّوْفَانُ وَهُمْ ظٰلِمُوْنَ ﴿١٤﴾ فَاَنْجَيْنٰهُ وَاَصْحٰبَ السَّفِيْنَةِ وَجَعَلْنٰهَآ اٰيَةً لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿١٥﴾ وَ
اِبْرٰهِيْمَ اِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ اعْبُدُوا اللّٰهَ وَاتَّقُوْهُ ؕ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿١٦﴾ اِنَّمَا تَعْبُدُوْنَ مِنْ

پس اونیوؤ دوی لره طوفان او دوی ظلم کؤنکی وؤ(١٤) پس بچ کړو مونږ دے او هغه خلق چه په کشتئے کښ وؤ (کشتئے والا) او اوګرځوله مونږ دا قصه عبرت دپاره دَ ټولو خلقو (١٥) اولیږلے وؤ مونږ ابراهیم(علیه السلام) کله چه اُوئیل هغه قوم خپل ته بندګی خاص کوئے دَ اللّٰه تعالیٰ او ویرپرے دَ هغه نه دا به غوره وی تاسو لره که چرے تاسو پوهیږئے (١٦) یقیناً بندګی کوئے تاسو

ګناهونه دی چه دَ دعوت دَ ګمراهئ په سبب سره په دوی باندے بارکیږی لکه سورة نحل (٢٥) کښ دی۔

[١٤] دَ دے ایت نه تر(٤١) پورے دویم باب دے په دے کښ څلورانواع دَ ابتلاء اتودَ انبیاء علیهم السلام ذکرکوی دپاره دَ تشجیع۔ اوله ابتلاء په اوږد عمرسره په دعوت اوتبلیغ کښ سرهٔ دَ لږوملګرونه لکه واقعه دَ نوح(علیه السلام)۔ دویمه ابتلاء دعوت دَ توحید تفصیلاً اومخالفت دَ قوم او اورته غورځول لکه واقعه دَ ابراهیم(علیه السلام) ،۔دریمه ابتلاء دَ استهزاء دَ قوم او مطالبه دَ عذاب دَ هغوی لکه واقعه دَ لوط(علیه السلام) څلورمه ابتلاء تکذیب دَ قوم اومسخرے کول لکه واقعه دَ شعیب(علیه السلام)، بیا ذکردَ څلورو قومونو اوعذاب په هغوی باندے په څلورو طریقوسره اودا تعلق لری دَدویمے دعوے دَ سورة سره۔ په دے (١٤)کښ واقعه دَ نوح(علیه السلام) په اختصارسره ذکرکوی اومقصود پکښ بیان دَ ابتلاء دے په اوږد عمرتیرؤلو سره دَ مصیبتونونه په دعوت اوتبلیغ کښ۔ دَدے وجے نه په دے ایت کښ ئے دَ نوح(علیه السلام) عمردَ هغه په قوم کښ ذکرکړلے یعنی چه هغه په خپل قوم کښ څومره عمرتیرکړے وؤسرهٔ دَ مصیبتونونه اودابل سورة کښ نیشته نودَ اولے دعوے سره تعلق لری۔اوعذاب دَ قوم دَ هغه ئے ذکرکړے دے دا دَ دویمے دعوے سره تعلق لری۔

فائده: تسعمائة سنة وخمسین ئے نه دے وئیلے دَ یوځووجونه یو وجه دا ده چه دا عبارت مختصر دے دَ دغه عبارت نه۔ دویمه وجه داده عظمت شان دَدے ابتلاء دے چه اول ئے غټ عدد ذکرکړو نو بیائے ترے استثنا اوکړله۔ دریمه وجه دا ده چه په دے عبارت کښ پوره مقصد ادا کول دی ځکه چه لفظ دَ سنة په تکلیف باندے دلالت کوی اولفظ دَ عامّا په فراخئ باندے دلالت کوی یعنی ډیرکلونه په تکلیف کښ تیرشول اوپنځوس کلونه په فراخئ کښ تیرشول۔

[١٥] په د ے ایت کښ تسلی ده نبی(صلی الله علیه وسلم) اودَهغه تابعدارانوته په نجات اوپه سلامتیا سره﴿اَصْحٰبَ السَّفِيْنَةِ﴾ تفسیرسراج المنیرمرفوع روایت بلاسند راوړے دے چه دوی سرهٔ دَ نوح(علیه السلام) نه اووه کسان وؤ﴿اٰيَةً لِّلْعٰلَمِيْنَ﴾ یعنی دا واقعه عبرت دے ټولوخلقولره یا دغه کشتئے نحه دَ عبرت ده په اعتباردَ مثل دَ هغه کشتئ سره لکه سورة یٰس (٤٢)کښ دی۔

[١٦] دا واقعه دَ ابراهیم(علیه السلام) ده دَبیان دَ دویم قسم ابتلاء دپاره چه هغه اورته غورځول اودَ ملك نه هجرت کول دی دَ وجے دَ دعوت دَتوحید نه په دے ایت کښ بیان دَتوحید دے اومنع ده دَ شرك نه سرهٔ دَ بیان دَ فائدے دَهغے نه اجمالاً په لفظ دَخیر سره چه هغه خیردنیوی اخروی دواړوته شامل دے ﴿اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ﴾ کښ اشاره ده چه دَخیراوشردَتمیزدپاره علم شرط دے۔

دُوْنِ اللّٰهِ اَوْثَانًا وَّتَخْلُقُوْنَ اِفْكًا ؕ اِنَّ الَّذِيْنَ تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ لَا يَمْلِكُوْنَ لَكُمْ رِزْقًا
فَابْتَغُوْا عِنْدَ اللّٰهِ الرِّزْقَ وَاعْبُدُوْهُ وَاشْكُرُوْا لَهٗ ؕ اِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۱۷﴾ وَاِنْ تُكَذِّبُوْا فَقَدْ كَذَّبَ اُمَمٌ مِّنْ
قَبْلِكُمْ ؕ وَمَا عَلَى الرَّسُوْلِ اِلَّا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿۱۸﴾ اَوَلَمْ يَرَوْا كَيْفَ يُبْدِئُ اللّٰهُ الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ ؕ اِنَّ ذٰلِكَ

سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه دَ شکلونو جوړو شوو او جوړوئے تاسو دروغ قصے یقیناً هغه کسان چه بندگی کوئے تاسو (دَهغوی) سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه وس نه لری تاسو لره دَ روزئے نو اولټوئے دَ اللّٰه تعالیٰ سره روزی او بندگی خاص کړئے دَ هغه او شکر کوئے دَ هغه او خاص هغه ته به اوګرځولے شئے (۱۷) او که چرے تاسو دروغژن کوئے مالره نو یقیناً دروغژن کړے ووَ ډیر امتونو مخکښ سنتاسونه (رسولانو لره) اونیشته په رسول باندے مګر رَسُول بنکاره دی (۱۸) ایا او دوی نه ګوری چه څرنګه اول پیدائش کوی اللّٰه تعالیٰ دَ مخلوق بیا به دوباره پیدا کوی هغه یقیناً داکار

[۱۷] په دے ایت کښ رد دے په شرك باندے په درے طریقوسره اودرے اوامردی دَپاره دَتوحید ﴿اَوْثَانًا﴾ یعنی داجوړ کړے شوی آلِهَ دی نودوی حقداردَبندګئی نشی کیدلے ځکه چه وثن هرهغه څیزدے چه جوړ کړے شی اوبندګی دَهغے کیدیشی که بت وی اوکه قبروی صلیب وغیره باندے هم اطلاق کیدیشی ﴿اِفْكًا﴾ یعنی دَ دوی دَمعبودیت دپاره تاسودروغ قصے جوړ کړیدی ﴿رِزْقًا﴾ یعنی لوئے حاجت دَ انسانی حاجتونونه رزق دے اوهیڅ معبود مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ دَ هیڅ قسم رزق اختیارنه لری او آخری دریواوامرومطلب دا دے چه سبب دَ رزق اودَترقئی دَ هغے دَ اللّٰه تعالیٰ بندګی ده په توحید سره اودَهغه شکراداکول دی او ورسره عقیده دَ آخرت ده۔

فائده: اول رِزقاً نکره اودویم الرِزق معرفه ذکرکړیده ځکه چه نکره په سیاق دَنفی کښ عموم فائده کوی یعنی ستاسوآلِهَ مِنْ دُوْنِ اللّٰه دَهیڅ قسم رزق طاقت نه لری اومعرفه دپاره دَکمال ده یعنی دَاللّٰه تعالیٰ سره پوره رزق دے۔

[۱۸] دَ دے ایت نه تر(۲۳) پورے په دے کښ دوه احتمالونه دی اول داچه دا داخل دے په واقعه دَ ابراهیم علیه السلام کښ څه په طریقه دَ خطاب اوځه په طریقه دَ غائب سره التفاتاً اوځه په طریقه دَحکایت کولوسره دَ قول دَ اللّٰه تعالیٰ نه اودا قول ابن کثیر غوره کړیدے دویم احتمال دا دے چه دا ایاتونه په مینځ دَ واقعه دَ ابراهیم علیه السلام کښ په طریقه دَجملے معترضے سره حال دَ دے امت دَ منکرینودے اودا قول ابن جریرغوره کړیدے ﴿وَاِنْ تُكَذِّبُوْا﴾ بنا په اول احتمال سره دا قول دَ ابراهیم علیه السلام دے یعنی هغه اوئیل ،وَاِنْ تُكَذِّبُوْنِيْ، اودَد ے جزاء پټه ده چه فَلَا اَتْرُكُ التَّبْلِيْغَ۔ لیکن په دے توجیه باندے دا اعتراض دے چه دَ ابراهیم علیه السلام نه مخکښ ډیرامتونه مکذبه ندی تیرشوی اودلته ئے جمع وئیلے ده اُمَمٌ؟ جواب دا دے چه قوم نوح اوعاد، ثمود وغیره قومونه تیر شویدی۔ اوبنا په دویم احتمال سره دا خطاب دَ اللّٰه تعالیٰ دے موجوده مکذبینوته په طریقه دَ زجرسره۔

عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرٌ ﴿١٩﴾ قُلْ سِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ فَانْظُرُوْا كَيْفَ بَدَاَ الْخَلْقَ ثُمَّ اللّٰهُ يُنْشِئُ النَّشْاَةَ الْاٰخِرَةَ ؕ
اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿٢٠﴾ يُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ وَيَرْحَمُ مَنْ يَّشَآءُ ۚ وَاِلَيْهِ تُقْلَبُوْنَ ﴿٢١﴾ وَمَآ اَنْتُمْ
بِمُعْجِزِيْنَ فِي الْاَرْضِ وَلَا فِي السَّمَآءِ ۫ وَمَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ ﴿٢٢﴾ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا ع ١٤
بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَلِقَآئِهٖٓ اُولٰٓئِكَ يَئِسُوْا مِنْ رَّحْمَتِيْ وَاُولٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٢٣﴾ فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهٖٓ

په الله تعالی باندے انسان دے (۱۹) اُوایه اوګرځئ په زمکه کښ پس اوګورئے چه څرنګه شروع کړے دے الله تعالی پیدائش بیا به الله تعالی پیدائش کوی پیدائش روستنے یقیناً الله تعالی په هر څیز باندے قادر دے (۲۰) عذاب به ورکوی هغه چاته چه اوغواړی او رحم به کوی په هغه چا باندے چه او غواړی او خاص هغه ته به اوګرځولے شئے تاسو (۲۱) اونه ئے تاسو عاجز کوونکی (الله تعالی لره) په زمکه کښ او نه په اسمان کښ او نیشته تاسو لره سیوا دَ الله تعالی نه هیڅ بچ کوؤنکے او نه مددګار (۲۲) او هغه کسان چه کفرئے کړیدے په اياتونو دَ الله تعالی او په ملاقات د هغه باندے دغه کسان نا امیده دی دَ رحمت زما نه او دغه کسان دوی لره عذاب درد ناك دے (۲۳) نو نه وؤ جواب دَ قوم دَ هغه

[۱۹] په دے ایت کښ اثبات دَبعث بعد الموت دے روستودَ اثبات دَ توحید اودَ رسالت نه ﴿اَوَلَمْ يَرَوْا﴾ مراد دَدے نه علم دے او کیفیت دَپیدائش دَانسان هرذی عقل ته معلوم دے اګرچه په ستړګونه ښکاریږی۔ ﴿ذٰلِكَ﴾ اشاره ده مجموعه دَاول اودویم پیدائش ته۔

[۲۰] په دے کښ اثبات دَبعث بعد الموت دے په نظرکولوسره په نورو مخلوقاتو کښ اوتیرشوی ایت کښ دلیل وؤپه فکر کولوسره په خپل پیدائش کښ یعنی هغه دلیل نفسی وؤاودادلیل آفاقی دے﴿بَدَاَ الْخَلْقَ﴾ یعنی اول پیدائش دَ حیواناتو نباتاتواونو بوټووغیره۔

فائده: اول ایت کښ يُبْدِئُ فعل مستقبل ذکردے اوپه دے ایت کښ بَدَاَ فعل ماضی ذکرکړے دے ځکه انسان دَهغه انسانانوپه پیدائش کښ فکرکولے شی چه دَ دهٔ نه روستومستقبل کښ پیداکیږی اوهرچه نوراشیاء دی نوپه مخکښ پیداکړے شوے باندے هم نظرکولے شی۔

[۲۱] دا نتیجه ده دَماقبل بیان دَ پاره اوتخویف اوترغیب دے اوهرکله چه ماقبل کښ دَکافرانوذکر ئے کړے دے دَ دے وجے نه عذاب ئے اول ذکرکړو﴿تُقْلَبُوْنَ﴾ قلب ګرځیدل دی داسے حالت ته چه دَ اول حال نه بدل وی اوقیامت هم داسے دے۔

[۲۲] دا علت دَماقبل دے یعنی عذاب دَ دے وجے نه ورکولے شی چه الله تعالی سره څوك مقابله نشی کولے ﴿وَلَا فِي السَّمَآءِ﴾ په دے کښ تقدیر دَ عبارت دے لَوْ كُنْتُمْ فِيْهَا (یعنی که بالفرض تاسو اسمان ته لاړشئ) یا وَمَا انتم خطاب عام دے اسمانی ملائك هم پکښ داخل دی۔

[۲۳] دا هم داخل دے په تخویف کښ هرکله چه مخکښ توحید اوبعث بعد الموت ذکرکړونوپه دے ایت کښ ئے منکرینو دَ توحید(په ایات الله) اومنکرین دَ بعث په (لقآئه) ته تخویف شدید ذکرکړو ځکه چه يَئِسُوا سره اشاره ده دَجنت نه محروم کیدل ، او عذاب اَلیم کښ اشاره ده دخول دَ جهنم ته۔

اِلَّآ اَنْ قَالُوا اقْتُلُوْهُ اَوْ حَرِّقُوْهُ فَاَنْجٰىهُ اللّٰهُ مِنَ النَّارِ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿٢٤﴾ وَقَالَ
اِنَّمَا اتَّخَذْتُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَوْثَانًا ۙ مَّوَدَّةَ بَيْنِكُمْ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ ثُمَّ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ يَكْفُرُ
بَعْضُكُمْ بِبَعْضٍ وَّيَلْعَنُ بَعْضُكُمْ بَعْضًا ۫ وَّمَاْوٰىكُمُ النَّارُ وَمَا لَكُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ﴿٢٥﴾ فَاٰمَنَ لَهٗ لُوْطٌ ۘ
وَقَالَ اِنِّيْ مُهَاجِرٌ اِلٰى رَبِّيْ ؕ اِنَّهٗ هُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿٢٦﴾ وَوَهَبْنَا لَهٗۤ اِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ وَجَعَلْنَا

وقف لازم

مګر دا چه دوی وئیل اوژنئے دهٔ لره یا اوسیزئے دهٔ لره پس بچ کړو الله تعالیٰ دهٔ لره د اور نه یقیناً په دے کښ ډیر عبرتونه دی دپاره د هغه قوم چه ایمان راوړی (٢٤) او اُوئیل ابراهیم(علیه السلام) یقیناً جوړ کړی دی تاسو سیوا د الله تعالیٰ نه معبودان (په طاعت کښ) دپاره د دوستانے په مینځ ستاسو کښ په ژوند دنیوی کښ بیا په ورځ د قیامت به انکار اوکړی بعضے ستاسو د بعضو نه او لعنت به اوکړی بعضے ستاسو په بعضو باندے او ستاسو ځائے اور دے او نیشته تاسو لره هیڅوك مددګاران (٢٥) نو ایمان ښکاره کړو هغه ته لوط(علیه السلام) او اُوئیل هغه یقیناً هجرت کوؤنکے یم طرف د خپل رب ته یقیناً هغه زورآور حکمتونو والا دے (٢٦) او بخښش ورکړو مونږ دهٔ ته اسحاق او یعقوب او خاص کړه مونږ

[٢٤] په دے کښ اشاره ده عناد اوتکبرد دغه قوم ته چه هغوی سره هیڅ جواب نه وؤ۔ پکار داوه چه چپ شوے وے لیکن دوی د تکبرد وجے نه غیرجواب لره جواب اوګنړلود دے وجے نه اوئیلے شوجواب قومِهٖ﴿اقْتُلُوْهُ﴾ په دے کښ اشاره ده قول د پلاردَ ابراهیم(علیه السلام) ته چه ﴿لَاَرْجُمَنَّكَ﴾ دے اوحَرِّقُوْهُ قول وؤد قوم د هغه لکه سورة انبیاء (٦٨) کښ دی ﴿لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ﴾ ډیر دلیلونه او عبرتونه دی بعضے د هغے نه دا دی (١) کامل قدرت اوتصرف د الله تعالیٰ (٢) د اورنه اثر د سوزولوختم کول (٣) خشاك سیزل او ابراهیم(علیه السلام) نه سیزل (٤) مؤحدینولره تسلی د نجات وغیره۔

[٢٥] دا لوے شجاعت د ابراهیم(علیه السلام) دے چه روستود بچ کیدلود اورنه ئے صاف توحید بیان کړود دے دپاره چه څوك اونه وائی چه ابراهیم اویریدو۔ اودعوت د توحید ئے پریخودلو۔ په (١٧) کښ رد وؤپه شرك بالعباد الصالحین باندے اوپه دے آیت کښ رد دے په شرك بالعباد المفسدین باندے یعنی رد دے په شرك فی التحلیل و التحریم باندے ﴿مَوَدَّةَ بَيْنِكُمْ﴾ یعنی د وجے د تعلق دَپیرئے مریدئے اواستاذئے شاګردئے اومقلَد اومقلِد اوتابع ومتبوع وغیره ﴿وَيَلْعَنُ بَعْضُكُمْ بَعْضًا﴾ داسے په سورة اعراف (٣٨) کښ ذکرشویدی اودارنګ په ایاتونود براء ت په مینځ د عابدانو معبودانو کښ بیان شوی دی لکه سورة بقرة، سورة ابراهیم، سورة احزاب، سورة سبا، سورة صافات، سورة ص، سورة حم مؤمن وغیره کښ۔

[٢٦] روستود ابتلاء بالنار نه دویمه ابتلاء دَابراهیم(علیه السلام) هجرت کول دی چه هجرت ئے اوکړو د سَواد الکوفه نه حرَّان ته اوبیا ارضِ مقدسے ته او ورسره لوط(علیه السلام) اوساره رضی الله عنها وه ﴿فَاٰمَنَ لَهٗ لُوْطٌ﴾ د ابراهیم(علیه السلام) رواره وؤایمان ئے ښکاره کړو ځکه چه نبی دَمخکښ نه مؤمن وی وَقال ضمیرابراهیم یا لوط علیهما السلام ته راجع دے ﴿اِلٰى رَبِّيْ﴾ لام ئے ځکه نه دے وئیلے چه په هغے کښ دلالت دے په صرف اخلاص باندے اوپه اِلٰی کښ سرهٔ د اخلاص نه دلالت دے چه مکان د هجرت به هم په امراوپه رضا د الله

فِيْ ذُرِّيَّتِهِ النُّبُوَّةَ وَالْكِتٰبَ وَاٰتَيْنٰهُ اَجْرَهٗ فِي الدُّنْيَا ۚ وَاِنَّهٗ فِي الْاٰخِرَةِ لَمِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۲۷﴾ وَ
لُوْطًا اِذْ قَالَ لِقَوْمِهٖٓ اِنَّكُمْ لَتَاْتُوْنَ الْفَاحِشَةَ ۫ مَا سَبَقَكُمْ بِهَا مِنْ اَحَدٍ مِّنَ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۲۸﴾ اَىِٕنَّكُمْ
لَتَاْتُوْنَ الرِّجَالَ وَتَقْطَعُوْنَ السَّبِيْلَ ۙ وَتَاْتُوْنَ فِيْ نَادِيْكُمُ الْمُنْكَرَ ؕ فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهٖٓ
اِلَّآ اَنْ قَالُوا ائْتِنَا بِعَذَابِ اللّٰهِ اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿۲۹﴾ قَالَ رَبِّ انْصُرْنِيْ عَلَى الْقَوْمِ

په اولاد دَ دهٔ کښ پیغمبری او کتابونه او ورکړیوه مونږ دهٔ ته بدله دَ دهٔ په دنیا کښ او یقیناً دے به په اخرت کښ خامخا دَ پوره نیکانو نه وی (۲۷) او یاد کړئے لوط(علیه السلام) کوم وخت چه اُوئیل هغه قوم خپل ته یقیناً تاسو خامخا راتلل کوئے بدکارئے ته چه وړاندے والے نه دے کړے ستاسونه په هغے باندے هیچا دَ خلقو نه (۲۸) ایا تاسو راتلل کوئے نارینو ته او بندوئے لارے او راتلل کوئے په مجلسونو خپلو کښ بدوکارونو ته نو نوؤ جواب دَ قوم دَ دهٔ مګر داچه اُوئیل دوی راوړه مونږ ته عذاب دَ اللّٰه تعالیٰ که چرے ته ئے دَ رشتینو نه (۲۹) اُوئیل هغه اے ربه زما مدد اوکړه ماسره په قوم

تعالیٰ سره وی۔

[۲۷] داپه صبردَ ابتلاء اتوباندے څلورنتیجے ذکرکوی اول بشارت په ځوئی اونوسی سره اودَ نوسی په بشارت کښ اشاره ده اوګډوالی دَ عمرته تردے پورے چه نوسے به اوینی اوذکردَ اسماعیل(علیه السلام) ئے ځکه اونکړوچه په دے هجرت کښ دَ دهٔ سره ساره رضی اللّٰه عنها موردَ اسحاق(علیه السلام) ملګرے وه نودا بشارت هغے ته هم دے۔ دویمه نتیجه دَابراهیم(علیه السلام) په اولادکښ انبیاء او آسمانی کتابونه خاص کول چه دَهغه نه روستوهیڅ نبی دَ هغه دَ اولاد نه بغیرنه دے راغلے اوڅوك چه دعویٰ دَ نبوت کوی په دروغه سره لکه مرزا غلام محمدقادیانی نوهغه خپل نسب دَ ابراهیم(علیه السلام) نه نشی ثابتولے۔ دریمه نتیجه دَ دنیا بعض نعمتونه لکه فراخی دَ رزق کثرت دَ اولاد، نیك ذکرپه خلقوکښ، محبت دَ عاموخلقودَ طرف نه په ځان منسوب کولوسره هغه ته وغیره چه یهودونصاریٰ اومشرکین عرب ټولو وئیل چه مونږپه دین ابراهیمی باندے یو۔ څلورمه په آخرت کښ دَجماعت دَ کامیابواوکامل صالحینونه کیدل۔

[۲۸] دا دریمه قصه ده دَپاره دَبیان دَ دریم قسم ابتلاء، اوهغه مصیبتونه دی په لوط(علیه السلام) باندے او مخالفت دَقوم دَهغه په طریقه دَ استهزاء اوطلب دَ عذاب دَ هغه نه ﴿مَاسَبَقَكُمْ﴾ دا مزید قباحت ته اشاره ده داسے په سورة اعراف (۸۰) کښ تیرشویدی۔

[۲۹] په دے کښ ذکردَنوروقباحتونودَ هغوی دے اواول تفسیردَفاحشه دے﴿وَتَقْطَعُوْنَ السَّبِيْلَ﴾مراد ترینه لارے شوکول اومسافروسره فاحشه کول په زورچه هغه سبب دَ شاړولودَلارودے یا مراد ترینه نسل قطع کول دی په سبب دَپریخودلودَ استعمال دَښځوسره ﴿وَتَاْتُوْنَ فِيْ نَادِيْكُمُ الْمُنْكَرَ﴾ داعام لفظ دے فاحشه کول دَخلقوپه وړاندے اوپه کانړو باندے ویشتل دَخلقواوپه خلقو پسے کنځل کول اوشپیلی وهل وغیره ﴿فَمَاكَانَ جَوَابَ قَوْمِهٖٓ اِلَّآ﴾ په سورة اعراف اونمل کښ دَ هغوی جواب په اخراج (ویستل دَ لوط(علیه السلام) دَکلی نه) سره ذکردے اوپه دے سورة کښ په طلب دَعذاب سره۔ دَ دے یو وجه دا ده چه دامطالبه په اول ځل کښ وه اوهرکله چه لوط(علیه السلام) بیا بیا وعظ دوی ته کوؤ نوبیا دوی جواب اوکړو دَ هغوی په

الْمُفْسِدِيْنَ ﴿٣٠﴾ وَلَمَّا جَآءَتْ رُسُلُنَآ اِبْرٰهِيْمَ بِالْبُشْرٰى ۙ قَالُوْٓا اِنَّا مُهْلِكُوْٓا اَهْلِ هٰذِهِ الْقَرْيَةِ ۚ
اِنَّ اَهْلَهَا كَانُوْا ظٰلِمِيْنَ ﴿٣١﴾ قَالَ اِنَّ فِيْهَا لُوْطًا ۭ قَالُوْا نَحْنُ اَعْلَمُ بِمَنْ فِيْهَا ۡ لَنُنَجِّيَنَّهٗ وَاَهْلَهٗٓ
اِلَّا امْرَاَتَهٗ ۖ كَانَتْ مِنَ الْغٰبِرِيْنَ ﴿٣٢﴾ وَلَمَّآ اَنْ جَآءَتْ رُسُلُنَا لُوْطًا سِيْۗءَ بِهِمْ وَضَاقَ بِهِمْ
ذَرْعًا وَّقَالُوْا لَا تَخَفْ وَلَا تَحْزَنْ ڰ اِنَّا مُنَجُّوْكَ وَاَهْلَكَ اِلَّا امْرَاَتَكَ كَانَتْ مِنَ الْغٰبِرِيْنَ ﴿٣٣﴾ اِنَّا

فساد کوؤنکو باندے (۳۰) او هر کله چه راغلل ملائك زمونږه ابراهیم(علیه السلام) ته په زیری سره اُوئیل دوی یقیناً هلاکوؤنکی یو اوسیدونکو دَ دے کلے لره یقیناً اوسیدونکی دَ دے دی ظلم کوؤنکی (۳۱) اُوئیل ابراهیم(علیه السلام) یقیناً په هغے کښ لوط شته اُوئیل دوی مونږ ښه خبر یو په هغه چا باندے چه په هغے کښ دی خامخا بچ به کړو مونږ هغه لره او دَ هغه کورنئے مګر ښځه دَ هغه وی به دَ پاتے کیدونکو نه (۳۲) او هر کله چه راغلل ملائك زمونږه لوط(علیه السلام) ته خفه کړے شو په هغوی او تنګ ئے شو په دوی باندے زړه او اُوئیل دوی مه ویریږه اومه خفه کیږه یقیناً مونږ بچ کوؤ تاله او کورنئے ستا مګر ښځه ستا وی به دَ پاتے کیدونکو نه (۳۳) یقیناً مونږ

اخراج سره دویمه وجه دا دواړه حصرونه اضافی دی یعنی دے سورة کښ مراد دا دے چه نه وؤجواب دَ قوم په باره دَ خپل ځان کښ مګر په طلب دَعذاب سره اوپه سورة اعراف کښ مراد دا دے چه نوؤجواب دَقوم دَهغه په باره دَ لوط(علیه السلام) کښ مګرپه اخراج سره۔

[۳۰] روستودَ نا امید کیدلودَ ایمان دَقوم نه دُعا دَ نصرت او دُعا دَعذاب ده په قوم باندے دا دُعا دلالت کوی چه هغوی لوط(علیه السلام) ته دِیراذیتونه رسولی وؤ دَ دے وجے نه هغوی ته ئے مفسدین اوئیل۔

[۳۱] دُعا دَ هغه قبول شوه اوالله تعالیٰ ملائك را اولیږل اول بشارت ورکوؤنکی ابراهیم(علیه السلام) ته اوبیا خبر ورکوؤنکی په باره دَ قوم دَ لوط(علیه السلام) کښ اوحکمت دا دے چه یوقوم مکذب که هلاك کړیشی پرواه نیشته ځکه چه الله تعالیٰ دَ هغوی په عوض کښ یوصالح سړے پیدا کوی ﴿بِالْبُشْرٰى﴾ ظاهردا ده چه مراد دَ دے نه بشارت دے په ولد (اسحاق(علیه السلام)) سره ﴿اِنَّا مُهْلِكُوْٓا﴾ دا دویم بشارت دے لیکن ابراهیم(علیه السلام) په دے دویم بشارت اولاً رضانه وؤ۔

[۳۲] مقصد دَ ابراهیم(علیه السلام) تاخیردَ عذاب وؤدَ دے قوم نه په دے امید سره چه دوی به ایمان راوړی اوعلت دَ هغے ئے ذکر کړو چه لوط(علیه السلام) په هغوی کښ موجود دے اوپه وخت دَ وجود دَ نبی په خپل قوم کښ عذاب نه راځی نوملائکو جواب ورکړو چه لوط(علیه السلام) به اول بچ کړے شی بیا به په هغوی باندے عذاب راځی ﴿لَنُنَجِّيَنَّهٗ﴾ هرکله چه ملائك رُسُل وی اوقول دَ رسول قول دَ مرسل وی نومعلومه شوه چه نَحْنُ اَعْلَمُ قول دَ الله تعالیٰ دے۔

[۳۳] په دے ایت کښ ئے اَنْ راوړو اومخکښ ئے اَنْ نه وؤذکرکړے وجه دا ده اَنْ دلالت کوی په اتصال باندے نومخکښ قول دَملائکومتصل نه وؤپه راتللو دَ ملائکو پورے اوپه دے ایت کښ خفه کیدل دَ لوط(علیه السلام) متصل ووپه راتللو دَ ملائکو پورے نوره تشریح په سورة هودکښ تیره شویده ﴿لَا تَخَفْ﴾ مه ویریږه په مونږباندے ﴿وَلَا تَحْزَنْ﴾اومه غمژن کیږه دَ دوی په عذاب اوهلاك باندے﴿كَانَتْ مِنَ الْغٰبِرِيْنَ﴾

مُنْزِلُوْنَ عَلٰٓى اَهْلِ هٰذِهِ الْقَرْيَةِ رِجْزًا مِّنَ السَّمَآءِ بِمَا كَانُوْا يَفْسُقُوْنَ ﴿٣٤﴾ وَلَقَدْ تَّرَكْنَا مِنْهَآ
اٰيَةًۢ بَيِّنَةً لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ﴿٣٥﴾ وَاِلٰى مَدْيَنَ اَخَاهُمْ شُعَيْبًا ۙ فَقَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ وَارْجُوا
الْيَوْمَ الْاٰخِرَ وَلَا تَعْثَوْا فِى الْاَرْضِ مُفْسِدِيْنَ ﴿٣٦﴾ فَكَذَّبُوْهُ فَاَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ فَاَصْبَحُوْا فِىْ دَارِهِمْ
جٰثِمِيْنَ ﴿٣٧﴾ وَعَادًا وَّثَمُوْدَا۠ وَقَدْ تَّبَيَّنَ لَكُمْ مِّنْ مَّسٰكِنِهِمْ ۖ وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطٰنُ اَعْمَالَهُمْ فَصَدَّهُمْ

راکو ځوؤنکی یو په دے کلی والو باندے سخت عذاب دَ اسمان دَ طرف نه په دے وجه چه دوی نافرمانی کوله (٣٤) او یقیناً پریخودله مونږ دَ هغے کلی ته نخښه ښکاره دپاره دَ عبرت دَ داسے قوم چه عقل لری (٣٥) او لیږلے وؤ مدین ته ورور دَ هغوی شعیب(علیه السلام) پس اُوئیل هغه اے زما قومه بندگی خاص کړئے اللّٰه تعالیٰ لره او عقیده لرئے په ورځ روستنئے اومه ګرځئ په ملك کښ فساد کوؤنکی (٣٦) نو دوی هغه ته دروغژن اُوئیل نو اونیوؤ دوی لره زلزلے نو شول (په وخت دَ صبا کښ) په کورونو خپلو کښ مړی جوخت شوی په زمکه پورے (٣٧) او هلاك کړی دی مونږ عادیان اوثمودیان او ښه ښکاره دی تاسوته (حالات دَ هغوی) دَ مکانونو دَ هغوی نه او خائسته کړی وؤ دوی ته شیطان عملونه دَ دوی نو بند کړی وؤ دوی لره

په (٣٢) اوپه دے(٣٣)کښ فرق دادے چه هلته مراد دا دے چه دَهغوی سره په عقیده کښ شریکه ده اودَ دویم مطلب دا دے چه دَهغوی سره په عذاب کښ شریکه ده۔

[٣٤] روستودَ بشارت دَ نجات نه انذار دے په عذاب دَقوم سره ﴿رِجْزًا﴾کښ اشاره ده باران دَ کانړوته سرهٔ دَ صیحے نه چه دَ آسمان دَ طرف نه به نازلیګی یا من السماء په معنیٰ دَ مقدّر من السماء دے۔

[٣٥] ﴿اٰيَةًۢ بَيِّنَةً﴾ مراد دَ دے دَ دوی کنډرات یاکانړی نازل کړے شوی چه باقی وو تردیر وخت پورے یا تورے اوبه یعنی دَ بحراسود هغه حصه چه حیوان پکښ ژوندے نشی پاتے کیدے۔

فائده: په واقعه دَنوح اوابراهیم علیهم السلام کښ دلیل دَ قدرت په انجاء کښ ذکرکړے وو او واقعه دَ لوط(علیه السلام) کښ دلیل دَ قدرت په هلاکت ذکرکړیدے اشاره ده چه په دواړه حالتونو کښ دلیلونه دَ قدرت دَ اللّٰه تعالیٰ دی دارنګ په واقعه دَنوح(علیه السلام) کښ﴿الْعٰلَمِيْنَ﴾ ئے اوئیل ځکه چه امثال دَکشتئی په ټول عالم کښ شته خلق ترینه عبرت اخستلے شی اوپه واقعه دَ ابرهیم(علیه السلام) کښ ئے دَ مؤمنانوتخصیص اوکړوځکه چه په هغے کښ ایات دَتشجیع اوتسلیۍ دی اوهغه خاص دی په مؤمنانوپورے اوپه واقعه دَ لوط(علیه السلام) کښ ئے لِقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ اوئیل ځکه چه دَهغوی کنډرات په خاص ځائے کښ دی اوځوك چه په هغے باندے ورتیریږی اوعقل لری نوهغه ترینه عبرت اخستلے شی۔

[٣٦] دا ځلورمه قصه ده دپاره دَبیان دَځلورم ابتلاء چه هغه تکالیف دی په شعیب(علیه السلام) باندے چه په سورة هود اوشعراء کښ تفصیلاً ذکردی اوتکذیب دَ قوم دَ هغه (په طریقے دَ ډیرے بے ادبئے سره لکه چه سورة هودکښ ذکرشویده) اودَ دهٔ په واقعه کښ دعوت دے توحید ته اوعقیدے دَیوم آخر ته اومنعه ده دَهرقسم فسادنه یعنی شرك اوخیانت په پیمانه او وزن اوپه مالونودَخلقوکښ۔

[٣٧] ﴿الرَّجْفَةُ﴾ زلزله دَ زمکے یا دَ زړونوپیدا شویوه په سبب دَ صیحه سره ځکه سورة هودکښ

عَنِ السَّبِيْلِ وَكَانُوْا مُسْتَبْصِرِيْنَ ﴿٣٨﴾ وَقَارُوْنَ وَفِرْعَوْنَ وَهَامٰنَ ۫ وَلَقَدْ جَآءَهُمْ مُّوْسٰى بِالْبَيِّنٰتِ
فَاسْتَكْبَرُوْا فِي الْاَرْضِ وَمَا كَانُوْا سٰبِقِيْنَ ﴿٣٩﴾ فَكُلًّا اَخَذْنَا بِذَنْۢبِهٖ ۚ فَمِنْهُمْ مَّنْ اَرْسَلْنَا عَلَيْهِ
حَاصِبًا ۚ وَمِنْهُمْ مَّنْ اَخَذَتْهُ الصَّيْحَةُ ۚ وَمِنْهُمْ مَّنْ خَسَفْنَا بِهِ الْاَرْضَ ۚ وَمِنْهُمْ مَّنْ اَغْرَقْنَا ۚ
وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَلٰكِنْ كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿٤٠﴾ مَثَلُ الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ

دَ لارے دَ توحید نه او دوی وؤ هوښیاران (٣٨) (او هلاك کړیدی مونږ) قارون او فرعون او هامان لره او یقیناً راغلے وؤ دوی ته موسیٰ(علیه السلام) په ښکاره معجزاتو سره نو لوئي او کړه هغوی په ملك کښ اونه وؤ دوی بچ کیدونکی دَ عذاب نه (٣٩) پس هر یو لره اونیوؤ مونږ په ګناه دَ هغه سره پس بعضے دَ دوی نه هغه دی چه را اولیږله مونږ په هغوی باندے سیلئے کانړی ویشتونکی او بعضے دَ دوی نه هغه دی چه اونیوؤ هغوی لره تیزے چغے او بعضے دَ دوی نه هغه دی چه خخ کړو مونږ په زمکه کښ او بعضے دَ دوی نه هغه دی چه غرق کړیدی مونږ اونه وؤ اللّٰه تعالیٰ چه دوی باندے ظلم کړے وے لیکن دوی په ځانونو خپلو باندے ظلم کوؤ (٤٠) حال دَ هغه کسانو چه نیولی ئے دی سیوا دَ

صیحه ذکر ده او سورة اعراف اودلته ئے رجفه ذکر کړے ده۔ بیا هرکله چه رجفه کښ خپل هیبت ډیروؤ دَ دے وجے نه دارجمع ذکر کولوته ضرورت نیشته اودَ صیحه هیبت دَ رجفے نه کم دے نو دَ دے وجے ئے دَ زیادت هیبت دَپاره ئے دیاردَ صیحه سره جمع ذکر کړے دے۔

[٣٨] دا ذکردَ عذاب دَ دوؤ قومونو دے اودا متعلق دے دَ سورة دَ دویمے دعوے سره ﴿وَقَدْ تَّبَيَّنَ﴾ فاعل ئے پټ دے عذابهم واحوالهم یامن په معنیٰ دَبعض دے نوفاعل دے ځکه چه دَهغوی بعضے کنډرات باقی وؤ ﴿فَصَدَّهُمْ عَنِ السَّبِيْلِ﴾ یعنی شرك وبدعات وغیره خائسته ښکاره کیدل سبب دے دَمنع کیدلودَتوحید اوسنت نه ﴿مُسْتَبْصِرِيْنَ﴾ دا جواب دَ وهم دے چه شیطان ځکه دهوکه کړی وؤچه دوی سادګان وؤ، جواب اوشوچه دوی ډیرهوښیار وؤ۔

فائده: دَعام کافرانواومشرکانوپه باره کښ وئیلے شویدی لایعقلون اودلته ئے ورته مستبصرین اوئیل داخوتعارض دے؟ جواب دا دے چه بے عقلی په باره دَ امورو دَ آخرت کښ ده اوهوښیار تیا په باره دَ امورو دَ دنیاکښ ده۔

[٣٩] په دے ایت کښ ذکردے دَ نوروقواومومکذبودپاره دَ تخویف دنیوی اوداهم متعلق دے دَدویمے دعوے دَ سورة سره په قرینه دَ مَا كَانُوْا سَابِقِيْنَ سره او دَ دوی دَ اقتدار او دَمالدارئے دَ وجے نه دَ دوی علت دَ عذاب استکبار ذکر کړو۔

[٤٠] په دے ایت کښ ذکردے دَ دوی دَځلوروقسمونودَ عذاب دنیوی سره ﴿حَاصِبًا﴾ عذاب دَسیلئے چه کانړی ولی او داعذاب دَعادیانواودَ قوم لوط وؤ ﴿الصَّيْحَةُ﴾ داعذاب دَ ثمودیانواوداصحاب مدین وؤ ﴿خَسَفْنَا﴾ داعذاب دَ قارون وؤ ﴿اَغْرَقْنَا﴾ دا عذاب دَ قوم نوح اوقوم فرعون اوهامان وؤاوسبب دَعذاب دَ ټولودا دے ﴿وَلٰكِنْ كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ﴾ ځکه چه ظلم عام دے کفر، شرك، عمل دَ قوم لوط،

اللّٰهِ اَوْلِيَآءَ كَمَثَلِ الْعَنْكَبُوْتِ ۚ اِتَّخَذَتْ بَيْتًا ۭ وَاِنَّ اَوْهَنَ الْبُيُوْتِ لَبَيْتُ الْعَنْكَبُوْتِ ۘ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ﴿۴۱﴾ اِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ مِنْ شَيْءٍ ۭ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿۴۲﴾

اللّٰه تعالیٰ نه مددګاران (معبودان) پشان دَ حال دَ جولاګی دے چه جوړ کړیوی کور او یقیناً ډیر کمزورے دَ کورونونه خامخا کور دَ جولاګی دے که چرے دوی پوهیدلے (٤١) یقیناً اللّٰه تعالیٰ پیژنی (حال) دَ هغه چاچه دوی ئے بلنه کوی سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه که هرڅه وی او خاص هغه دے زوراور حکمتونو والا (٤٢)

عمل دَ قوم شعیب او استکبارد فرعونیانوته شامل دے۔

[٤١] دَدے ایت نه دریم باب دے تر(٥٦) پورے په دے کښ مثال دے دپاره دَ رد دَ شرك اوذکرد ځلورو صفاتو دَ اللّٰه تعالیٰ دے دپاره دَ اثبات دَتوحیدبیا طریقه دَ دعوت ده په ذکرد ځلورو آدابو، بیا اثبات دَ صدق دَ رسول دے په ځلورو طریقوسره بیا زجر دے په عذاب طلب کولودَ دنیا او دَ آخرت او ذکرد ځلورو احوالودَ منکرینو دے۔ دَدے ایت (٤١) مناسبت دَ مخکښ سره دا دے هرکله چه عذابونه دَ مشرکانو مخکښنوئے ذکرکړل لیکن دَ هغوی اِلٰهوهغوی سره هیڅ امداد نه دے کړے نوپه دے ایت کښ دَ هغوی دَ عجز او کمزورئ مثال ذکرکوی ﴿اِتَّخَذَتْ بَيْتًا﴾ اشاره ده چه بیت نه دے لیکن دے پرے دَ بیت خیال کوی دَدے وجے نه نسج العنکبوت ئے نه دے ذکرکړے ځکه چه نسج خوحقیقت کښ شته لیکن بیت یعنی کوټه نیشته۔ تفصیل دَ مثال دا دے لکه چه عنکبوت جاله جوړوی لیکن په داسے مکان کښ چه صفائی ئے نه کیږی شاړوی اودے په دے جاله باندے خیال کوی چه دا ځماکوټه ده مابه دَ بادوباران دَګرمئی، یخنئ اودَ نمردَ تپ نه بچ کوی لیکن که اوګرځے اوګرځے نودَ دے نه به کمزورے ځائے پیدانکړے ځکه داجاله هیڅ فائده نه ورکوی ماسیوا دَ دے نه چه مچ پکښ ښکارکیدے شی۔ نودا رنګ مشرکانوپه خپلوباطل معبودانوباندے عقیده لرلے ده وائی چه مونږچه دوی ته سجدے کوؤ اودَ دوی نذرانے پیش کوؤپه دے به دوی مونږلره دَهرمصیبت اوتکلیف نه بچ کوی اوزمونږحاجتونه به پوره کوی (اودا عقیده همیشه په شاړوجاهلانوخلقو کښ رائځی چه هغوی دَعقیدے دَصفائے هیڅ خیال نه ساتی) لیکن که ډیرتفشیش دَ دینونواوکړے نودَ دین دَ شرك نه به درته کمزورے بل دین ملاؤنشی ځکه چه دغه معبودان دے عابدانولره هیڅ حاجت نشی پوره کولے اونه ترینه هیڅ تکلیف او مصیبت لرے کولے شی هاں دَ شرك په دے عقیدے سره دَمریدانونه دَ دنیا مال اوعزت حاصله وی لیکن دَ دغه مالونواودَ دنیا دَ عزت مثال خودَ مچ نه سپك دے معمولی فائده حاصله کړی لیکن غټے فائدے ترینه فوت شی۔

[٤٢] دا دلیل دے دَ رد دَ شرك اودَ اللّٰه تعالیٰ درے صفتونه ئے ذکرکړی دی اوپه دے ایت کښ جواب دَ وهم دے وهم دا دے چه دامخکښ مثال ئے ولے عام بیان کړو دَ اولیاؤ اوبزرګانوعبادت کوؤنکی ترینه ولے نه مستثنیٰ کول؟ حاصل دَجواب دا دے چه اللّٰه تعالیٰ دَ دے ټولوپه حال باندے خبردے چه دا ټول کمزوری اوعاجزدی دَهیڅ چا هیڅ حاجت نشی پوره کولے ﴿الْعَزِيْزُ﴾ یعنی ملګری ته ئے حاجت نیشته ﴿الْحَكِيْمُ﴾ یعنی مشیرته ئے هم حاجت نیشته۔

وَتِلْكَ الْاَمْثَالُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ ۚ وَمَا يَعْقِلُهَآ اِلَّا الْعٰلِمُوْنَ ﴿٤٣﴾ خَلَقَ اللّٰهُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٤٤﴾ ع ١٤ ٢٤ ٦

او دا مثالونه بیانوؤ مونږ دپاره دَ خلقو اونه پوهیږی په دے باندے مګر عالمان (٤٣) پیدا کړیدی اللّٰه تعالیٰ اسمانونه او زمکه دَ حق سکاره کولو دپاره یقیناً په دے کښ خو خامخا دلیل دے دپاره دَمؤمنانو (٤٤)

[٤٣] په دے ایت کښ دَ مثالونوفائدوته اشاره ده او رد دے په هغه چا باندے چه دَ دے دَ فائدونه خبرنه دی نوانکار کوی یعنی دوی جاهلان دی اوپه دے ایت کښ دلیل دے چه عالم دَ اللّٰه تعالیٰ په نیزهغه څوك دے چه دَ قرآن کریم په مثالونوکښ سوچ کوی اوپه هغے باندے پوهه لری ﴿يَعْقِلُهَآ﴾ پوهه دَ مثال دا ده چه وجه شبه په دواړو طرفونو(مشبه اومشبه به)کښ اوپیژنی اوپه حکمتونودَمثال باندے پوهیږی۔

[٤٤] دا هم دلیل دے دَ رد دَ شرك اودَ اللّٰه تعالیٰ څلورم صفت ئے ذکرکړے دے یعنی څوك چه په مثالونونه پوهیږی نودَ آسمان اودَ زمکے په دلیلونوکښ دِ فکر اوکړی او ایمان دِ راوړی۔

اُتْلُ مَآ اُوْحِیَ اِلَیْكَ مِنَ الْكِتٰبِ وَاَقِمِ الصَّلٰوةَ ؕ اِنَّ الصَّلٰوةَ تَنْهٰی عَنِ الْفَحْشَآءِ وَالْمُنْكَرِ ؕ وَلَذِكْرُ اللّٰهِ اَكْبَرُ ؕ وَاللّٰهُ یَعْلَمُ مَا تَصْنَعُوْنَ ﴿۴۵﴾ وَلَا تُجَادِلُوْۤا اَهْلَ الْكِتٰبِ اِلَّا بِالَّتِیْ هِیَ اَحْسَنُ ۖ اِلَّا الَّذِیْنَ ظَلَمُوْا مِنْهُمْ وَقُوْلُوْۤا اٰمَنَّا بِالَّذِیْۤ اُنْزِلَ اِلَیْنَا وَاُنْزِلَ اِلَیْكُمْ وَاِلٰهُنَا وَاِلٰهُكُمْ وَاحِدٌ وَّنَحْنُ لَهٗ مُسْلِمُوْنَ ﴿۴۶﴾ وَكَذٰلِكَ اَنْزَلْنَاۤ اِلَیْكَ الْكِتٰبَ ؕ فَالَّذِیْنَ اٰتَیْنٰهُمُ الْكِتٰبَ یُؤْمِنُوْنَ بِهٖ ۚ وَمِنْ هٰۤؤُلَآءِ مَنْ یُّؤْمِنُ بِهٖ ؕ

لوله هغه چه وحی کړے شویده تاته دَ کتاب نه او پوره کوه مونځ لره یقیناً دغه مونځ منع کوی دَ بسکاره بدئے نه او دَ ناروا نه او خامخا ذکر دَ اللّٰه تعالیٰ ډیر لوئے دے او اللّٰه تعالیٰ پوهه دے په هغه څه چه تاسو کوئے (٤٥) او بحث مه کوئے دَ کتابیانو سره مگر په هغه طریقه چه خائسته ده مگر هغه کسان چه ظلم ئے کړیدے دَ دوی نه (په عناد سره) او وائیے ایمان راوړے دے مونږ په هغه څه چه نازل کړے شویدے مونږ ته او نازل کړے شوے دے تاسو ته اوحق دار دَ بندګئے زمونږ او حقدار دَ بندګئ ستاسو یو دے او مونږ هغه لره تابع دار یو (٤٦) او دغسے نازل کړیدے مونږتاته کتاب پس هغه کسان چه ورکړیدے مونږ هغوی ته کتاب ایمان راوړی په دے باندے او دَ دے کسانونه هغه څوك دی چه ایمان راوړی په دے کتاب باندے

[٤٥] په دے ایت کښ او ورپسے ایت کښ څلور اداب اوامورد دعوت ډپاره ذکرکوی په دے ایت کښ دَ هغے نه دوه ئے ذکرکړی دی۔ اول لوستل دَکتاب دَ اللّٰه تعالیٰ چه دَهغے نه علمونه حاصل کړی اونوروخلقوته بیان کول دَکتاب اللّٰه۔ دویم عمل کول په پابندئے کولودَ مانځه باندے اودَ مانځه باندے او دَ مانځه فائدے ئے بیان کړی دی اول داچه دَ ګناهونونه منع کوی دویم داچه په مانځه کښ دَ اللّٰه تعالیٰ ذکردے اوذکردَ ټولوعبادتونونه لوے عبادت دے ﴿اَلْفَحْشَآءِ﴾ هغه ګناهونه دی چه په عقل سره هم دَ هغے ناکاره والے معلومیږی ﴿الْمُنْكَرِ﴾ هغے ته وائی چه صرف په دلیل شرعی سره معلوم وی چه دا ګناه دے۔

فائده: مراد دَ مانځه نه هغه مونځ دے چه دَ رسول اللّٰهﷺ دَ سنت سره برابروی او قبول وی۔ مونځ ګذار شخص که دَګناهونو کولو نه نه منع کیږی نودَ دهٔ مونځ کښ به ضرور شرعی نقصان وی او قبول به نه وی ﴿وَلَذِكْرُ اللّٰهِ اَكْبَرُ﴾ یومعنیٰ دا ده چه ذکردَ اللّٰه تعالیٰ دَ ټولوعبادتونونه لوے عبادت دے ځکه چه ذکراللّٰه نه مراد ذکرپه عقیده دَ توحید سره دے اودا بنیاد دَ ټولو عبادتونودے۔ دویمه معنیٰ دا ده چه ذکردَ اللّٰه تعالیٰ په مانځه کښ لوے(غوره) دے دَ ذکردَ هغه نه چه بهر دَ مانځه نه دے۔ دریمه معنیٰ دا ده چه ذکردَ اللّٰه تعالیٰ تاسولره ډیرلوے ځیزدے دَ ذکرستاسونه هغه لره اوهغه حاصلیږی په صحیح مونځ کولو سره۔ ﴿تَصْنَعُوْنَ﴾ صنع هغه عمل ته وئیلے شی چه ډیرکرته اوعادةً کیدلے شی۔

[٤٦] دا دریم ادب دَ دعوت دے اوخاص دے په کتابیانواواهل علموپورے یعنی هرکله چه دوی په تاسوباندے باطل اعتراضونه کوی نودَ هغے الزامی اومسکِت (چپ کؤنکی) جوابونه ورکوئے اوخائسته طریقه استعمال کړئ یعنی کنځل اوزګه ژبه مه استعمالوئے بلکه په حجت دَکتاب اللّٰه اودَسنت سره جواب ورکوئے ﴿وَلَا تُجَادِلُوْۤا﴾ مراد دَجدال نه دَ اعتراضونو جوابونه ورکول دی ﴿الَّذِیْنَ ظَلَمُوْا مِنْهُمْ﴾ مراد دَ ظلم نه ضد اوعناد دے یعنی دَهغوی پشان معامله کوئے سخت جواب ورکوئے اوکه جګړے ته

وَمَا يَجْحَدُ بِاٰيٰتِنَآ اِلَّا الْكٰفِرُوْنَ ﴿۴۷﴾ وَمَا كُنْتَ تَتْلُوْا مِنْ قَبْلِهٖ مِنْ كِتٰبٍ وَّلَا تَخُطُّهٗ بِيَمِيْنِكَ اِذًا لَّارْتَابَ
الْمُبْطِلُوْنَ ﴿۴۸﴾ بَلْ هُوَ اٰيٰتٌۢ بَيِّنٰتٌ فِيْ صُدُوْرِ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ ۭ وَمَا يَجْحَدُ بِاٰيٰتِنَآ اِلَّا الظّٰلِمُوْنَ ﴿۴۹﴾ وَقَالُوْا
لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْهِ اٰيٰتٌ مِّنْ رَّبِّهٖ ۭ قُلْ اِنَّمَا الْاٰيٰتُ عِنْدَ اللّٰهِ ۭ وَاِنَّمَآ اَنَا نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿۵۰﴾ اَوَلَمْ يَكْفِهِمْ

او انکار نه کوی دَ اياتونو زمونږ نه مګر کافران (٤٧) اونه وے ته چه لوستلے وے تامخکښ دَ دے (قرآن) نه څه کتاب او نه لیکلے دے تا کتاب په خی لاس خپل سره دغه وخت خامخا پوره شك به کړیوے باطل پرستو (٤٨) بلکه دا قرآن دی اياتونه ښکاره په سینو دَ هغه کسانو کښ چه علم ورکړے شویدے او انکار نه کوی دَ اياتونو زمونږ نه مګر ظالمان (٤٩) او وائی دوی ولے نشی نازلیدلے په دهٔ باندے معجزات دَ طرف دَرب دَ دهٔ نه ته اُوایه یقیناً دَ معجزاتو اختیار دَ اللّٰه تعالیٰ سره دے او یقیناً څه ویره در کوؤنکے ښکاره یم (٥٠) ایااو نه ده پوره دَ دوی دپاره داخبره

ضرورت شی نوهم ورسره جهاد کوئے ﴿وَقُوْلُوْٓا﴾ دا څلورم ادب دے یعنی په وخت دَمجادله او مناظره کښ فیصله په کتاب منزّل باندے کوئے ځکه چه ایمان په ما انزل اللّٰه پورے خاص دے او دَ ټولو کتابونو مقصد توحید دے دَ دے وجے نه روستو ئے الٰهنا والٰهکم واحد ذکر کړے دے۔

[٤٧] دَ دے ایت نه ذکر کوی څلورطریقے دَصدق دَقرآن اودَرسول ﷺ په دے ایت کښ اوله طریقه ده یعنی مخکښنوعلماؤ اهل کتاب اودَ عوامو موجودونه بعضِ خلقودا قرآن منلے دے نومعلومه شوه چه رشتینے کتاب اورسول دے ﴿وَمَا يَجْحَدُ﴾ سره زجردے منکرینوته یعنی په انکارد قرآن سره کافرشویا داچه دَ مخکښ نه کافر(منکروؤدَ توحیدنه) دی نودَ دے وجے نه دَ قرآن نه انکارکوی۔

[٤٨] دا دویمه طریقه ده یعنی دا رسول لوستونکے دَکتابونونه دے اونه خط لیکلے شی نومعلومه شوه چه داکتاب ئے دَځان نه نه دے جوړ کړے ﴿بِيَمِيْنِكَ﴾ داپه اعتبارد اکثرعادت دے اواشاره ده چه لیکل په خی لاس سره پکاردی ﴿اِذًا لَّارْتَابَ﴾ یعنی که چرے دا نبی لیکونکے وے نوبیا به دَدے منکرینودَشك دپاره څه سبب وے لیکن اوس خوهیڅ وجه دَشك نیشته ﴿الْمُبْطِلُوْنَ﴾ هغه خلق چه دَحق مقابله کوی په باطلوشبهاتوسره باطلوؤنکی دی حق لره په خپلواردوسره یا مبطلون په معنیٰ دَ خاوندان دَ باطل پرستئ دی۔

[٤٩] دا دریمه طریقه ده نودا قرآن محفوظ دے په سینودَ صحابه کراموکښ او دَ نوروعلماؤ اوحافظانوپه سینوکښ نودَ دے تحریف اوابطال هیڅوك نشی کولے اودا دَ قرآن کریم خصوصیت دے چه ماسیوا دَانبیاؤعلیهم السلام نه دَ امتیانوپه حافظه کښ هم راتلے شی اومخکنی کتابونه به صرف دَ انبیاؤپه حفظ کښ راتلل امتیانوبه نشوحفظ کولے ﴿اُوْتُوا الْعِلْمَ﴾ نومعلومه شوه چه دَ اللّٰه تعالیٰ په نیزقرآن والاعالمان دی۔

فائده: په (٤٧) کښ الکافرونَ ئے وئیلی دی ځکه چه مقابل کښ ایمان ذکر کړے دے اوپه دے ایت کښ الظّالمون ذکرکړے دے ځکه چه دلیلونه دَ صداقت ذکرشول اوبیا هم که څوك انکارکوی نوهغه عنادی او ظالم وی۔

[٥٠] دا زجردے په اعتراض کولو سره په صدق دَ رسول اودَ قرآن باندے په دے نظریه دَهغوی چه ایات اومعجزات راوړل دَ نبی په اختیارکښ دی۔ اول جواب اوشوچه معجزه صرف دَ اللّٰه تعالیٰ په اختیار او

اَوَلَمْ يَكْفِهِمْ اَنَّآ اَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتٰبَ يُتْلٰى عَلَيْهِمْ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَرَحْمَةً وَّذِكْرٰى لِقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۵۱﴾ قُلْ كَفٰى بِاللّٰهِ
بَيْنِيْ وَبَيْنَكُمْ شَهِيْدًا ۚ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِالْبَاطِلِ وَكَفَرُوْا بِاللّٰهِ ۙ اُولٰٓئِكَ هُمُ
الْخٰسِرُوْنَ ﴿۵۲﴾ وَيَسْتَعْجِلُوْنَكَ بِالْعَذَابِ ؕ وَلَوْلَآ اَجَلٌ مُّسَمًّى لَّجَآءَهُمُ الْعَذَابُ ؕ وَلَيَاْتِيَنَّهُمْ بَغْتَةً
وَّهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۵۳﴾ يَسْتَعْجِلُوْنَكَ بِالْعَذَابِ ؕ وَاِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيْطَةٌ ۢ بِالْكٰفِرِيْنَ ﴿۵۴﴾ يَوْمَ يَغْشٰىهُمُ الْعَذَابُ
مِنْ فَوْقِهِمْ وَمِنْ تَحْتِ اَرْجُلِهِمْ وَيَقُوْلُ ذُوْقُوْا مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۵۵﴾ يٰعِبَادِيَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنَّ

چه نازل کړے دے مونږ په تا باندے کتاب لوستلے شی په دوی باندے یقیناً په دے کښ خامخا رحمت او نصیحت دے دپاره دَقوم چه ایمان راوړی (۵۱) ته اُوایه پوره دے اللّٰه تعالیٰ په مینځ زما اوپه مینځ ستاسو کښ فیصله کوؤنکے عالم دے په هغه څه چه په اسمانونو کښ دی او زمکه کښ دی او هغه کسان چه یقین لری په باطل معبود باندے او انکار کوی دَ اللّٰه تعالیٰ نه دغه کسان خاص دوی تاوان والا دی (۵۲) اوپه تادئے سره غواړی ستانه عذاب (دَ دُنیا) او که چرے نه وے نیټه مقرر خامخا راغلے به وے دوی ته عذاب او خامخا رابشی دوی ته ناسپاه او دوی به نه پوهیږی (۵۳) په تادئے سره غواړی دوی ستانه عذاب او یقیناً جهنم خامخا راګیرؤنکے دے کافرانو لره (۵۴) په هغه ورځ چه راګیر به کړی دوی لره عذاب دَ پاسه دَ دوی او لاندے دَ خپو دَ دوی نه او اوبه وائی اوځکئے (سزا) دَ هغه عملونو چه تاسو کول (۵۵) اے بندګانو زما هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے یقیناً

قدرت کښ ده دَ نبی په معجزه کښ هیڅ اختیار نیشته داسے په سورة رعد (۳۸) کښ تیرشویدی۔

[۵۱] دا دویم جواب دے دَسوال، حاصل دَجواب دا دے چه قرآن کریم پوره معجزه ده اودَ ټولو معجزاتونه بهتره ځکه چه باقی معجزه ده اوتمام اهل دنیا ته دَ دے اعجازثابت شویدے ﴿لَرَحْمَةً﴾ سبب دَ نزول دَ رحمت الٰهی دے یا سبب دَ اطمینان دَ زړونودے یارحمت په معنیٰ دَنعمت خاصه دے۔

فائده: دا ښکاره دلیل دے چه په معجزه کښ دَ نبی قدرت اواختیار نه وی ځکه چه قرآن معجزه ده نو که په دے کښ قدرت دَ نبی وے نوبیا خوبه دا افتراء وه لکه چه مشرکانواعتراض کوؤ۔

[۵۲] دا نتیجه ده دَمخکښ بیان چه اللّٰه تعالیٰ دَرسول اودَ قرآن صدق ثابت کړونودا شهادت دَ اللّٰه تعالیٰ دے اوداشهادت کافی دے دپاره دَاثبات دَ صدق۔ بیا زجردے منکرینوته چه سره دَ دے شهادت نه ځوك په باطل کتابونواو شبهاتوباندے یقین کوی او دَ کتاب دَ اللّٰه تعالیٰ نه انکار کوی نو دا په لوے خسران کښ دی۔

[۵۳] دا زجردے په زرطلب کولودَعذاب دنیوی سره اودَ هغے جواب اوشوچه عذاب به په خپلے نیټے سره اوناسپاه به راځی ﴿بَغْتَةً﴾ هغه دے چه دَ وخت او تاریخ تعین ئے معلوم نه وی اګرچه علامات ئے وی۔

[۵۴،۵۵] دا زجر دے په زرغوښتلودَعذاب اخروی (یعنی دوی وائی چه دَ نیټے نه دے مخکښ راشی) اوبیا ئے دَ منکرینو ځلورحالات دَ تخویف ذکرکړی دی هغه دا دی احاطه دَ جهنم، غشی دَعذاب، دَ هرطرف نه عذاب، ذوق دَ عذاب اودَ دے پشان په سورة اعراف (۴۱) کښ تیرشویدی۔

اَرْضِیْ وَاسِعَةٌ فَاِیَّایَ فَاعْبُدُوْنِ ﴿۵۶﴾ كُلُّ نَفْسٍ ذَآىِٕقَةُ الْمَوْتِ ۫ ثُمَّ اِلَیْنَا تُرْجَعُوْنَ ﴿۵۷﴾ وَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا
وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَنُبَوِّئَنَّهُمْ مِّنَ الْجَنَّةِ غُرَفًا تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِیْنَ فِیْهَا ؕ نِعْمَ اَجْرُ
الْعٰمِلِیْنَ ﴿۵۸﴾ الَّذِیْنَ صَبَرُوْا وَعَلٰی رَبِّهِمْ یَتَوَكَّلُوْنَ ﴿۵۹﴾ وَكَاَیِّنْ مِّنْ دَآبَّةٍ لَّا تَحْمِلُ رِزْقَهَا ۖ اَللّٰهُ یَرْزُقُهَا
وَاِیَّاكُمْ ۖ وَهُوَ السَّمِیْعُ الْعَلِیْمُ ﴿۶۰﴾ وَلَىِٕنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ

زمکه (ملك) زما فراخه ده نو خاص ماله بندګی کوئے (۵۶) هر ساه والا ځکونکے دَ مرګ دے بیا به خاص مونږ طرف ته راګرځولے شئے تاسو (۵۷) او هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے او عمل ئے کړیدے دَ سنت برابر خامخا ځائے ورکوؤم دوی ته دَ جنت نه بنګلے بهیږی به لاندے دَ هغے نه ولے همیشه به وی دوی په هغه کښ بنه دے ثواب دَ (داسے) عمل کوؤنکو (۵۸) هغه کسان چه صبرئے کړیدے او خاص په خپل رب باندے ځان سپاری (۵۹) او ډیر زنده سر دی طاقت نه لری دَ روزئ پیدا کولو ځان لره اللّٰه تعالیٰ روزی ورکوی هغوی ته او تاسو ته هم او هغه هر څه اوری اوپه هرڅه باندے پوهه دے (۶۰) اوکه چرے تپوس اوکړے ته دَ دوی نه چه چا پیدا کړیدی اسمانونه اوزمکه اودَ خپل حکم لاندے کړیدے نمر او سپوږمئے

[۵۶] دَ دے ایت نه ترآخردَ سورة پورے څلورم باب دے په دے کښ ذکر دَ ابتلاء بالهجرة دے په څلورو طریقوسره بیا درے عقلی دلیلونه دی چه په هغے کښ مهاجرینوته تسلی هم ده اوپه هریودلیل کښ څلورڅلورڅیزونه ذکرکړی دی بیاڅلور زجرونه دی اواختتام دے په دعویٰ دَ سورة سره۔ په دے (۵۶)کښ اوله طریقه دَترغیب الی الهجرة ده یعنی چه په یوملك کښ ظلم وی دَ طرف دَمشرکانونه پابندی وی په اظهاردَ توحید اودَ طاعاتو باندے نو وطن پریخودل لازم دی لیکن دین پریخودل جائزنه دی۔ ﴿اِنَّ اَرْضِیْ وَاسِعَةٌ﴾ په دے کښ اشاره ده چه په هجرت سره وسعت اوفراخی حاصلیږی۔

[۵۷] دا دویمه طریقه ده دَ ترغیب الی الهجرة یعنی دَ وطن او دوستانو وغیره نه هسے هم په مرګ سره بے اختیاره جدائی راتلونکے ده نو دَ هغے نه ږوانده دَ اللّٰه تعالیٰ دَ دین دپاره په خپل اختیار سره جدائی اوکړه یعنی هجرت اوکړه داسے په سورة العمران (۱۸۵)کښ هم تیرشویدی۔

[۵۸،۵۹] دا دریمه طریقه ده دَترغیب الی الهجرة یعنی بشارت خاصه دے په سبب دَ هجرت کولوچه ﴿الَّذِیْنَ صَبَرُوْا﴾کښ صبرپه تکالیفودَهجرت باندے داخل دے اودارنګ ﴿وَعَلٰی رَبِّهِمْ یَتَوَكَّلُوْنَ﴾ ترك دَ اعتماد په وطن اوپه اهل وطن باندے داخل دے اوغُرَفاً کښ اشاره ده که دَ دنیا مکانونه په هجرت کولوسره پاتے شی نو په جنت کښ به اوچت مکانات حاصل شی۔

[۶۰] داڅلورمه طریقه ده دَترغیب الی الهجرة یعنی داوهم دے یوشخص نه کوی که چرے څه وطن نه لاړشم نو روزی به څرنګ ملاویږی جواب ورکړے شوچه ټولوبے طاقته ځناوروته اللّٰه تعالیٰ روزی ورکوی نومهاجرفی سبیل اللّٰه ته به ضرور ورکوی۔

لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ ۚ فَاَنّٰى يُؤْفَكُوْنَ ﴿٦١﴾ اَللّٰهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ وَيَقْدِرُ لَهٗ ۭ اِنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ
شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿٦٢﴾ وَلَىِٕنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ نَّزَّلَ مِنَ السَّمَاۗءِ مَاۗءً فَاَحْيَا بِهِ الْاَرْضَ مِنْۢ بَعْدِ مَوْتِهَا لَيَقُوْلُنَّ
اللّٰهُ ۭ قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ ۭ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُوْنَ ﴿٦٣﴾ وَمَا هٰذِهِ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَآ اِلَّا لَهْوٌ وَّلَعِبٌ ۭ وَاِنَّ
الدَّارَ الْاٰخِرَةَ لَهِيَ الْحَيَوَانُ ۘ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ﴿٦٤﴾ فَاِذَا رَكِبُوْا فِي الْفُلْكِ دَعَوُا اللّٰهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ

وقف لازم ط ع ۲

خامخا دوی به اُوائی اللّٰه تعالیٰ پس څه رنګه اړولے شی دوی دَ حق نه (٦١) اللّٰه تعالیٰ فراخوی روزی چا لره چه اوغواړی دَ بندګانو خپلو نه اوتنګوی هغه لره یقیناً اللّٰه تعالیٰ په هر څیز باندے علم لری (٦٢) اوکه چرے ته دوی نه تپوس اوکړے چه چا راوړولی دی دَ اسمان دَ طرف او به پس تازه کړیده په هغے سره زمکه روستو دَ اوچ والی دَهغے نه خامخا دوی به اُوائی اللّٰه تعالیٰ ته اُوایه ټول صفتونه دَ خدائی خاص اللّٰه تعالیٰ لره دی بلکه ډیر دَ دوی نه عقل نه لری (٦٣) اونه دے دا ژوند دُنیوی مګر مشغله ده او لوبے دی او یقیناً کور روستنے خامخا هغه ژوند پوره دے که چرے دوی پوهیدلے (٦٤) پس هر کله چه دوی سواره شی په کشتئ کښ راښلی دوی اللّٰه تعالیٰ لره اخلاص کوی دَهغه

[٦١] دا دلیل عقلی اعترافی دے دپاره دَتوحید اوزجرے مشرکانوته اوپه دے کښ څلورامورذکرکړی دی۔اومناسبت دَ دے دَترغیب الی الهجرة دَ څلورمے طریقے سره دے یعنی روزی دَ اللّٰه تعالیٰ دَطرف نه ګنړئ ځکه چه هغه خالق مدبِّر روزی تقسیم کوؤنکے اودَ روزئ اسباب پیداکوونکے دے اودا صفتونه دَهغهٔ مشرکان هم منی ﴿السَّمٰوٰتِ﴾ دَ دے نه تقدیرد رزقونورالحی اوبارانونه ترے وریږی﴿وَالْاَرْضَ﴾ دَدے نه بوټی راؤځی دپاره دَروزئ﴿الشَّمْسَ﴾په دے سره میوے غلے پخیږی﴿وَالْقَمَرَ﴾ په دے سره ترقی دَبوټو راځی اورنګونه ئے هم بدلیږی۔

[٦٢] دا دویم دلیل عقلی دے اودفع دَ وهم ده که څوك وهم اوکړی چه خالق دَ روزئے اللّٰه تعالیٰ دے لیکن فراخی او تنګسیابه دَبل چا اختیارکښ وی جواب اوشو چه داهم دَ اللّٰه تعالیٰ په اختیارکښ ده په دے دلیل کښ دوه څیزونه ذکر کړیدی بسط اوتدبر۔

[٦٣] دا دریم دلیل عقلی دے اواعترافی دے حاصل ئے دا دے چه روزی او فراخی اوتنګی دَ هغے په اختیاردَ اللّٰه تعالیٰ کښ دَ دے وجے نه ده چه اسباب دَ روز ئے باران ورَول اوزمکه کښ قوت نباتیه پیداکول دَاللّٰه تعالیٰ په قدرت کښ دی۔ په دے دواړو اياتونوکښ څلورځیزونه ذکرکړیدی اوهرکله چه دَ رِزق تفصیل اوکړے شوچه دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه دے نواختتام کښ ئے امراوکړوپه الحمد لِلّٰه وئیلو سره۔

[٦٤] دَ دے ایت نه تر(٦٨) پورے څلور زورَ نے ذکرکوی۔ په دے ایت کښ زورنه ورکوی دنیا پرستوخلقوته چه دوی علم نه لری دَ دنیا په فنا اودَ آخرت په بقا باندے۔ اوهرکله چه تیرشوی درے اياتونوکښ دَ دنیا څیزونه ذکرکړل نوپه دے سورة کښ ورته اشاره اوکړه په هٰذِهِ سره ﴿لَهْوٌ﴾ هغه څیزدے چه صرف زړه مشغولوی۔ یعنی په دے سره انسان دَ اللّٰه تعالیٰ دَ ذکرنه مشغولیږی، اولعب هغه څیزدے چه بے فائدے اوزرفناکیږی ﴿الْحَيَوَانُ﴾ حیاة حقیقیه دائمه چه فنا پرے نه راځی اوغمونودر دونونه پاك وی۔

الدِّيْنَ ۚ فَلَمَّا نَجّٰىهُمْ اِلَى الْبَرِّ اِذَا هُمْ يُشْرِكُوْنَ ﴿٦٥﴾ لِيَكْفُرُوْا بِمَآ اٰتَيْنٰهُمْ ۙ وَلِيَتَمَتَّعُوْا ۟ فَسَوْفَ
يَعْلَمُوْنَ ﴿٦٦﴾ اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّا جَعَلْنَا حَرَمًا اٰمِنًا وَّيُتَخَطَّفُ النَّاسُ مِنْ حَوْلِهِمْ ۭ اَفَبِالْبَاطِلِ يُؤْمِنُوْنَ
وَبِنِعْمَةِ اللّٰهِ يَكْفُرُوْنَ ﴿٦٧﴾ وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا اَوْ كَذَّبَ بِالْحَقِّ لَمَّا جَاۗءَهٗ ۭ اَلَيْسَ
فِيْ جَهَنَّمَ مَثْوًى لِّلْكٰفِرِيْنَ ﴿٦٨﴾ وَالَّذِيْنَ جَاهَدُوْا فِيْنَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا ۭ وَاِنَّ اللّٰهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿٦٩﴾ ع

په بلنه کښ پس هر کله چه بچ کړی دوی لره اوچے ته دغه وخت دوی شریك جوړوی دَ اللّٰه تعالیٰ (٦٥) (عاقبت دا) انکار او کړی دوی دَهغه نعمت چه مونږ دوی له ورکړے وی او دپاره دَ دے چه مزے واخلی پس زر دے چه دوی به پوهه شی (٦٦) ایا دوی نه ګوری چه ګرځولے دے مونږ حرم امن والا تختولے کیږی خلق چا پیره دَ دے نه ایا په باطل معبود باندے یقین لری او دَ احسان دَ اللّٰه تعالیٰ نا شکری کوی (٦٧) او څوك ډیر ظالم دے دَ هغه چانه چه جوړوی په اللّٰه تعالیٰ باندے دروغ یا دَ دروغونسبت کوی حق ته هر کله چه راغے دوی ته ایا نیشته په جهنم کښ ځائے دَ دیره کیدو دپاره دَ کافرانو (٦٨) او هغه کسان چه ځان کړوی زمونږ په رضا کښ خامخا خپلم به دوی ته لارے زمونږ او یقیناً اللّٰه تعالیٰ خاص ملګرے دے دَ خائسته عمل کوونکو(٦٩)

[٦٦،٦٥] دا دویم زجردے په شرك دَ دوی سره سرهٔ دَ پوهے دَ دوی نه چه مصیبت لرے کوونکے اللّٰه تعالیٰ دے او دا دلیل دَ جهل دَ دوی دے اوهم داسے تیر شویدی په سورة یونس (٢٢) اوسورة بنی اسرائیل (٦٧) کښ۔ اودا دلیل دے چه معرفت دَ رب په فطرة دَ هرانسان کښ شته دے ﴿لِيَكْفُرُوْا﴾ لام دَ عاقبت دے اودا متفرع دے په يُشْرِكُوْنَ باندے ﴿وَلِيَتَمَتَّعُوْا﴾ دا تفریع ده په نَجّٰاهُمْ باندے۔

[٦٧] دا دریم زجردَ دوی دے لکه چه په وخت دَ لرے کیدلودَ تکلیف کښ شرك کوی نودارنګ په باره دَامن دَمکه مکرمه کښ هم خپلوشرکاؤته نسبت کوی اوشرك کوی ﴿اَفَبِالْبَاطِلِ﴾ مراد دَ دے معبودان من دون اللّٰه دی چه مشرکین مکه به دَ مکے دَامن نسبت لات منات وغیره ته کوؤ لکه چه اوس چه مشرکان دَیوکلی یا دَعلاقے دَ امن اوبرکاتونسبت یو قبروالہ (چه هغه کلی ته نزدے وی) ته کوی۔

[٦٨] دا ځلورم زجردے ﴿افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا﴾ یعنی شرك کوی اونسبت ئے اللّٰه تعالیٰ ته کوی کله وائی لَوْ شَاءَ اللّٰهُ مَا عَبَدْنَاهُ کله وائی وَاللّٰهُ اَمَرَنَا بِهَا ﴿بِالْحَقِّ﴾ نه پیغمبراو قرآن مراد دے۔

[٦٩] دا متعلق دَ ابتدا دَسورة سره دے اوبشارت دے هغه چاته چه محکښ ذکرکړے شوے فتنے اوامتحانات ئے په ځان باندے تیرکړی دی ﴿جَاهَدُوْا﴾ نه مراد دغه تیرشوی کړاؤنه دی چه تیرکړی ئے دی۔ ﴿فِيْنَا﴾ یعنی په لار دَ اللّٰه تعالیٰ کښ یا دَ وجے دَ رضا دَ اللّٰه تعالیٰ نه مراد ترینه اخلاص دے ځکه چه جهاد بغیرد اخلاص نه نه قبلیږی ﴿لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا﴾ فضیل بن عیاض نقل کړیدی چه چا ځان اُوکړ اؤپه طلب دَ علم دَ دین کښ په اخلاص سره نو اوبه بنائم دوی ته طریقے دَ عمل کولو، سهل بن عبد اللّٰه وئیلی دی چه، چا ځان اوکړاؤپه طاعت زمونږکښ اوبه بنائم ورته لارے دَ ثواب، دریم داچه چاځان اوکړاؤ په دعوت تبلیغ دَ دین کښ په اخلاص سره نوعلم به ورکوؤ دهٔ ته دَ دلیلونودَ حق، اوداپه تجربے سره هم ثابت ده چه

سُوْرَةُ الرُّوْمِ (۳۰) مَكِّيَّةٌ (۸۴) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۶۰ رُكُوْعَاتُهَا ۶

الٓمّٓ ﴿۱﴾ غُلِبَتِ الرُّوْمُ ﴿۲﴾ فِيْٓ اَدْنَى الْاَرْضِ وَهُمْ مِّنْۢ بَعْدِ غَلَبِهِمْ سَيَغْلِبُوْنَ ﴿۳﴾ فِيْ بِضْعِ سِنِيْنَ ۭ لِلّٰهِ

الف لام میم (۱) کمزوری کړے شول رومیان (۲) په نږدے زمکه کښ او دوی به روستو دَ کمزوری کیدلو دَ دوی نه زر ده چه غالب شی (۳) په یوځو کلونو کښ خاص اللّٰه تعالیٰ لره

(بقیه تفسیر دَ سورة العنکبوت) داعی دَ حق ته اللّٰه تعالیٰ الهام دَحجتونو کوی ﴿الْمُحْسِنِيْنَ﴾ هغه کسان مراد دی چه عمل ئے اوکړو په دے سورة باندے۔

سورة رُوم

ربط : دَ دے سورة دَ مخکښ سورة سره په یو ځوو جوسره دے اوله وجه دا ده چه مخکښ سورة کښ دَ صحیح جهاد ذکر اوشونو په دیکښ دَ هغے نتیجه ذکر کوی چه هغه انقلاب دے۔ دویمه وجه داده چه تیر شوی سورة کښ ترغیب وؤ جهاد ته نو په دے سورة کښ بشارت دے په نصرت دَ اللّٰه تعالیٰ سره۔

دعویٰ دَ دے سورة: وعده ده دَ امداد دَ اللّٰه تعالیٰ دَ توحید والوسره په انقلاب راوستلوسره۔ اواثبات دَ دے دَ دعوے په مثال دَ رومیانوسره دے اوپه دلیلونودَ قدرت دَ اللّٰه تعالیٰ په انقلاب دَ حالاتو باندے۔ اودارنګ اثبات دَ توحید دے په عقلی دلیلونو سره اوپه ذکردَ یومثال سره اوپه رد دَ اقساموَدَ شرك سره، شرك په تصرف کښ اوپه دعاء کښ او رد په شفاعت قهریه باندے۔

خلاصه دَ سورة : دا سورة تقسیم دے درے بابونوته۔ اول باب تر(۱۹) پورے دے په دے کښ اول مثال ذکرکوی په غلبه دَ رومیانوپه فارس والوباندے روستودَ مغلوبه کیدلونه بیا دعویٰ دَ سورة ده تر (۵) پورے بیا ځلور زجرونه دی اول په بے علمئے دَ دوی په (٦) کښ دویم په غفلت سره دَ اخرت نه په (۷) کښ دریم په انکاردَ بعث بعد الموت سره په (۸) کښ سرهٔ دَ دلیل عقلی نه ځلورم په ظلم سره په خپلوځانونوباندے په (۹) کښ سرهٔ دَتخویف دنیوی نه، اوتخویف اخروی دے په (۱۰،۱۲،۱۳، ۱٤، ۱٦) کښ اودلیل عقلی په (۱۱) کښ اوبشارت اخرویه دے په (۱۵) کښ بیا ذکردَ تسبیح اوحمد دے (چه دا توحیددے) دَپاره دَ حاصلولو دَ نصرت دَ اللّٰه تعالیٰ چه دعویٰ دَ سورة ده په (۱۷،۱۸) کښ۔

تفسیر

[۱] دا دَ مقطعاتونه دے دلیل دے په اعجاز دَ قرآن باندے۔

[۲،۳] دامثال دے دَ پاره دَ دعوے دَ سورة اودپاره دَ تسلّیٔ دَ مؤمنانو، اودَفارس او دَ روم جنګ ته اشاره ده۔ تفصیل ئے دادے چه په زمانه دَ نزولِ قرآن کښ په دنیا کښ دا دوه بادشاهئے وے چه ډیر لوی مملکتونه وو۔ **یوفارس** وؤ دَ هغوی بادشاه ته به کسریٰ وئیلے کیدلو او هغه وخت ایران، افغانستان او اکثر مشرقی ملکونو باندے دَ دوی بادشاهی وه او دوی مجوسیان وو، او مجوسیان کتابیان نه دی بلکه دَ اُوراورنړا اودَ نمر، سپوګمئے، ستورو وغیرو عبادتونه کوی او امیین دی دوی پشان دَ مشرکین عرب وو**دویم روم** وؤ

الْاَمْرُ مِنْ قَبْلُ وَمِنْۢ بَعْدُ ؕ وَيَوْمَئِذٍ يَّفْرَحُ الْمُؤْمِنُوْنَ ۙ﴿۴﴾ بِنَصْرِ اللّٰهِ ؕ يَنْصُرُ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَهُوَ

پوره اختیار دے مخکښ او روستو او په دغه ورځ به خوشحاله شی مؤمنان (٤) په امداد دَ اللّٰه تعالیٰ سره امداد کوی هغه چا سره چه اوغواړی او خاص هغه

چه دَ هغوی بادشاه ته به هرقل وئیلے کیدلو اکثر مغربی ملکونه ترشام پورے دَ دوی دَ بادشاهئی دَ لاندے وواودوی نصاریٰ اهل کتاب وو دَ دے دواړو په مینځ کښ به اکثر وخت جنګونه وو لیکن یو وخت دَ فارس بادشاه چه نوم ئے سابور وؤ دَ جنګ دَ رومیانو دپاره لوے لښکر او لیږلو او لوے جنګ اوکړے شو چه په هغے کښ رومیان کمزوری شول او فارس والو دَ هغوی نه دَ شام علاقه اذرعات، بصریٰ اوبلاد جزیره باندے غلبه اوکړله رومیان صرف روم او قسطنطنیه علاقے ته غونډ شول۔ داخبر چه مشرکان مکّه واوریدلونوهغوی ډیرخوشحاله شول اودَ مکّے دَ مؤمنانو خلاف ئے پراپیګنډے شروع کړے، او وئیل ئے چه زمونږ رونړه ستاسو په رونړوباندے غالب شول نونږدے ده چه مونږبه هم غالب شو اوستاسو دین به ختم کړو اومؤمنان پدے ډیر خفه شول نو دَ دوی دَ تسلّیٔ دپاره دا ایتونه نازل شول۔حاصل داوو چه رومیان اګر چه اوس مغلوب شول لیکن لږ وخت روستوبه غالب شی او دغسے اوشوه ځکه اووه کاله روستو بیالوے جنګ اوکړے شو او رومیان غالب شول په فارس والو باندے او دَ دوی دَ غلبے ورځ هغه وه چه مؤمنان په غزوه دَ بدرکښ په مشرکین مکّه باندے غالب شول نوپه مشرکانو باندے دوه خفګانونه راغلل اوپه مؤمنانوباندے دوه خوشحالئے راغلے۔

فائده: داښکاره دلیل دے چه قرآن رشتینے کتاب دَ اللّٰه تعالیٰ دے ځکه دا دَ غیبو خبرئے ورکړے وؤ اوهغه رشتیا واقع شو۔

تشریح: روم بن عیص بن اسحاق بن ابراهیم علیه السلام سره مشهوردی. نومعلومه شوه چه دوی دَ اولاد دَ یعقوب بن اسحاق علیهما السلام(چه هغوی ته بنی اسرائیل وئیلے کیږی) تربوران دی﴿فِیْۤ اَدْنَی الْاَرْضِ﴾ یعنی دَ رومیانو هغه زمکه (ملك) چه عربوته نزدے وه په نسبت دَ فارس چه هغه شام او بصریٰ وغیره ده۔

[٤] ﴿بِضْعِ﴾ دَ عربیٔ په محاوره کښ دَ دریونه ترنهه یا لسو پورے عدد ته وئیلے کیږی۔ دَ دے وجے نه مفسرینودَ ابوبکر رضی الله عنه دَ اُبی بن خلف الجمحي سره کومه واقعه چه ذکر کړے ده نوپه هغے ابوبکر رضی الله عنه اول درے کاله پورے شرط لګولے وو نو رسول اللّٰه ﷺ اوفرمائیل چه بضع اطلاق دَدریونه ترنهه پورے دے نو دَ اوو(۷)کالوشرط ئے اولګوؤ چنانچه غلبه دَ روم دَ دے ایت دَ نزول نه اووه کاله روستوحاصل شوه﴿لِلّٰهِ الْاَمْرُ﴾ دلته مراد اختیاردَ غلبے اودَ مغلوبیت دے اوداکلمه دَ توحید ده چه اختیارمند واکدارصرف اللّٰه تعالیٰ دے﴿وَيَوْمَئِذٍ يَّفْرَحُ الْمُؤْمِنُوْنَ﴾دابشارت دے مؤمنانو(صحابه کراموته) اوپه دیکښ بله معجزه ده چه اللّٰه تعالیٰ دَنبی ﷺپه واسطے سره اووه کاله رواندے دَبدرپه ورځ دَمؤمنانودَ خوشحالئ خبرورکړے وؤاوهغه صحیح ښکاره شو۔

الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ۝٥ وَعْدَ اللّٰهِ ؕ لَا يُخْلِفُ اللّٰهُ وَعْدَهٗ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝٦ يَعْلَمُوْنَ ظَاهِرًا
مِّنَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۖ وَهُمْ عَنِ الْاٰخِرَةِ هُمْ غٰفِلُوْنَ ۝٧ اَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوْا فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ ؕ مَا خَلَقَ اللّٰهُ السَّمٰوٰتِ
وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَآ اِلَّا بِالْحَقِّ وَاَجَلٍ مُّسَمًّى ؕ وَاِنَّ كَثِيْرًا مِّنَ النَّاسِ بِلِقَآئِ رَبِّهِمْ لَكٰفِرُوْنَ ۝٨
اَوَلَمْ يَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ فَيَنْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ كَانُوْٓا اَشَدَّ مِنْهُمْ
قُوَّةً وَّاَثَارُوا الْاَرْضَ وَعَمَرُوْهَآ اَكْثَرَ مِمَّا عَمَرُوْهَا وَجَآءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ ؕ فَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيَظْلِمَهُمْ
وَلٰكِنْ كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ۝٩ ثُمَّ كَانَ عَاقِبَةَ الَّذِيْنَ اَسَآءُوا السُّوْٓاٰى اَنْ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَكَانُوْا

زورآور او رحم والا دے (٥) وعده کړے ده الله تعالی وعده خلاف نه کوی الله تعالی دَ وعدے خپلے نه اولیکن ډیر خلق نه پوهیږی (٦) پوهیږی دوی ښکاره په ژوند دَ دنیا او دوی دَ اخرت نه دوی بے پرواه دی (٧) ایا دوی سوچ نه کوی په خپلو ځانونو کښ نه دی پیدا کړی الله تعالی اسمانونه او زمکه اوهغه چه په مینځ دَ دوی کښ دی مګر په حق سره او په نیټه مقرر سره او یقیناً ډیر دَ خلقو نه دَ ملاقات دَ رب خپل نه ضرور منکران دی (٨) ایا او دوی نه ګرځی په زمکه کښ نو چه او ګوری چه څه رنګ وؤ انجام دَ هغه کسانو چه دَ دوی نه مخکښ وؤ هغوی ډیر کلك دَ دوی نه طاقت والا وؤ اوزمکه ئے اړولے وه او اباده کړے وه زمکه زیاته دَ هغے نه چه دوی اباده کړے ده او راغلی وؤ دوی ته رسولان په ښکاره دلیلونو سره نو نوؤ الله تعالی چه په دوی باندے ظلم کړے وے اولیکن دوی په خپلو ځانونو باندے ظلم کوؤ (٩) بیا شو انجام دَ هغه چا چه بدے ئے کړے وے ناکاره (ځکه چه) دروغژن ئے ګنړلی وؤ ایا تونه دَ الله تعالی او دوی وو

[٥] په دے ایت کښ دعویٰ دَ سورۃ ده۔

[٦] دا تاکید دَ مخکښ بشارت دے ﴿لَا يَعْلَمُوْنَ﴾ مراد دَ دے نه منکرین دَ مدد دَ الله تعالی دی چه هغوی دَ دے انقلاباتو الله تعالی ته نسبت هم نه کوی ۔ او په دیکښ زجر دے په عدم دَ علم سره ۔

[٧] دادویم زجردے په علمونواوتجرباتو دَ دنیاسره یعنی دَکسبونواوتجارتونواودَ زمینداړئے اودَ ابادئ وغیره دَ دنیا په کارونو کښ ډیره تجربه لری او دارنګ دَ دنیا په غلط سیاستونو کښ ښۀ پوهه دی ﴿وَهُمْ عَنِ الْاٰخِرَةِ هُمْ غٰفِلُوْنَ﴾ دا دریم زجردے په غفلت دَ اخرت نه۔

[٨] داځلورم زجردے په انکاردَ توحید او دَ بعث بعد الموت نه په سبب دَ بے فکره کیدلو سره ﴿وَاِنَّ كَثِيْرًا﴾ پدیکښ پنځم زجر دے په انکار دَ قیامت سره۔

[٩] دا شپږم زجردے اوتخویف دنیوی دے په ذکردَعذابونودَ تیرشوؤ قومونوسره ﴿فَيَنْظُرُوْا﴾ نه معلومه شوه چه سیل کول په ملکونو کښ دَپاره دَ عبرت اخستلو عبادت دے بیا دَ تیرشوؤ قومونوپنځه حالتونه ئے ذکرکړی دی اول ﴿كَانُوْٓا اَشَدَّ مِنْهُمْ﴾ یعنی په فصلونو کرلواودَ زمکے نه معدنیات راویستلوکښ ډیر مشغول وو دریم ﴿وَعَمَرُوْهَآ﴾ په ابادوکولوکښ ډیر مصروف وو یعنی دنیا پرست وو او دُنیاوی کارونو ترقی کول ئے کمال ګنړلوځلورم ﴿وَجَآءَتْهُمْ﴾ یعنی الله تعالی دَ دوی دَخبرورکولو دَپاره ډیر

بِهَا يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿١٠﴾ اَللّٰهُ يَبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ ثُمَّ اِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿١١﴾ وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ يُبْلِسُ
الْمُجْرِمُوْنَ ﴿١٢﴾ وَلَمْ يَكُنْ لَّهُمْ مِّنْ شُرَكَآئِهِمْ شُفَعٰٓؤُا وَكَانُوْا بِشُرَكَآئِهِمْ كٰفِرِيْنَ ﴿١٣﴾ وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ
يَوْمَئِذٍ يَّتَفَرَّقُوْنَ ﴿١٤﴾ فَاَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فَهُمْ فِيْ رَوْضَةٍ يُّحْبَرُوْنَ ﴿١٥﴾ وَاَمَّا الَّذِيْنَ
كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَلِقَآئِ الْاٰخِرَةِ فَاُولٰٓئِكَ فِي الْعَذَابِ مُحْضَرُوْنَ ﴿١٦﴾ فَسُبْحٰنَ اللّٰهِ حِيْنَ تُمْسُوْنَ

چه په هغې پورې توقې کولې (١٠) الله تعالیٰ اول پیدائش کوی بیا به دوباره هم کوی بیا به خاص هغه ته اوګرځولې شئے تاسو (١١) او په هغه ورځ چه قیامت به قائم شی نا امیده به شی مجرمان (١٢) او نه به وی دوی لره دَ شریکانو دَ دوی نه سفارشیان اوشی به دوی دَ شریکانو نه منکران (١٣) او هغه ورځ چه قیامت قائم شی په دغه ورځ به دوی جدا جدا شی (١٤) نو هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے او عمل ئے کړے په طریقه دَ نبی نو دوی به په باغجو کښ وی خوشحالولے به شی (١٥) او هغه کسان چه کفرئے کړے دے او دروغژن ګنړی ایاتونه زمونږ او ملاقات دَ اخرت نو دغه کسان به په عذاب کښ حاضر کړے شی (١٦) نو پاکی وائیے دَ الله تعالیٰ کوم وخت چه بیګاه کوئے

رسولان لیږلی وو دَپاره دَ دے چه دین الٰهی ته ئے توجه پیداشی، پنځم ﴿وَلٰكِنْ كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ﴾ یعنی کفر اوشرك او بدعات او نورګناهونه ئے کول او دا په ځان باندے ظلم کول دی ځکه دَ دے په وجه باندے دَ دُنیا دغه نعمتونه ئے برباد شول او دوی هلاك شول۔

[١٠] داتخویف اخروی دے۔

[١١] دا مختصر دلیل عقلی دے اودا متعلق دے دَ (٧) سره اواثبات دَ دوباره ژوند دے۔

[١٢] دا تخویف اخروی دے هرکله چه اعاده ذکرشوه نواوس په دے ایتونوکښ تفصیل دَ قیامت ذکرکوی اودَ (١٦) ایت پورے دَ مجرمانو پنځه حالات ذکر کوی۔

[١٣] داهم تخویف کښ داخل دے او رد دَ شفاعت قهریه شرکیه دے او جواب دَ سوال دے، که اُوئیلے شی چه دوی به چپ شی خو دَ دوی معبودان به دَ دوی دَ بچ کولو دَ پاره خبرے کوی او شفاعت به کوی نو دَ هغے رد ئے اوکړو۔

[١٤] دا هم داخل دے په تخویف کښ یعنی روستو دَ نا اُمیده کیدلونه به تفرق دَ یوبل نه اوکړی۔

[١٥] دابیان دَ تفرق اودَ جدائیے دے اوپه دے ایت کښ بشارت دے مؤمنانوته ﴿يُحْبَرُوْنَ﴾ درے معانے دی(١) عزت به ورکیدے شی(٢) نعمتونه به ورکیدے شی(٣)خوشحالی به ورکیدے شی، په دے کښ دَ جنت ټول نعمتونه داخل دی۔

[١٦] داتخویف دَ منکرینودے اوپه دے کښ دَ دوی درے جرمونه ئے ذکر کړی دی۔

وَحِيْنَ تُصْبِحُوْنَ ﴿۱۷﴾ وَلَهُ الْحَمْدُ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَعَشِيًّا وَّحِيْنَ تُظْهِرُوْنَ ﴿۱۸﴾ يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ
الْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ وَيُحْيِ الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ۭ وَكَذٰلِكَ تُخْرَجُوْنَ ﴿۱۹﴾ وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ ع
اَنْ خَلَقَكُمْ مِّنْ تُرَابٍ ثُمَّ اِذَآ اَنْتُمْ بَشَرٌ تَنْتَشِرُوْنَ ﴿۲۰﴾ وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ اَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِّنْ

اوکوم وخت چه صبا کوئے (۱۷) او خاص هغه لره ستائِنه دَ (خدائے ده) په اسمانونو او زمکه کښ اوپه مازیګری کښ اوکوم وخت چه ماسپخین کوئے تاسو (۱۸) را او باسی اللّٰه تعالیٰ ژوندی لره دَ مړنه او رااو باسی مړ لره دَ ژوندی نه او تازه کوی زمکه روستو دَ اوچید لونه او دغسے به را ویستلے کیدلے شئ تاسو (۱۹) او بعض دَ دلیلونو دَ توحید او قدرت دَ اللّٰه تعالیٰ نه دا چه پیدائش ئے شروع کړے دے ستاسو دَ خاورے نه بیا شوئے تاسو بشر پیر خواره واره شوئے (۲۰) او بعض دَ دلیلونو دَ توحید او قدرت دَ هغه نه داچه پیدا کړیدی تاسو لره

[۱۸،۱۷] دا تفریع ده په دعویٰ دَسورة باندے اودا دعویٰ دَتوحید ده یعنی هرکله چه اللّٰه تعالیٰ ستاسونصرت کوی نو تسبیح وائیے لکه چه سورة نصرکښ هم ذکردی یا دا بیان دَ سبب دے دَپاره دَ حصول دَ دعوے دَ سورة یعنی په توحید دَ اللّٰه تعالیٰ سره نصرت او مدد الٰهی حاصلیګی۔ په دے ایاتونو کښ تسبیح اوحمدنه مراد سرهٔ دَ قول نه عمل دَ هغے دے په طریقه دَ مونځ کولوسره ځکه مونځ کښ تسبیح اوحمد قولاً اوعملاً دی ۔ او دَ ابن عباس رضی اللّٰه عنهما په روایت سره په دے ایاتونو کښ دَ پنځو وختونو دَمونځ ذکردے ﴿تُمْسُوْنَ﴾ کښ مابنام اوماسخوتن داخل دے او ﴿تُصْبِحُوْنَ﴾ کښ مونځ دَ صبا داخل دے ﴿عَشِيًّا﴾ کښ دَ مازیګرمونځ داخل دے او ﴿تُظْهِرُوْنَ﴾ کښ مونځ دَ ماسپخین داخل دے۔

فائده: هرکله چه بیګائي اوصبائي وخت تیاره وی او تیاره کښ نقصان وی نو دَ هغے سره تسبیح مناسب ده یعنی اللّٰه تعالیٰ دَهر نقصان نه پاك دے او مازیګراوما سپخین کښ رنړاوی او رنړا کمال دے نو دَ هغے سره حمد مناسب دے۔

[۱۹] دَ دے ایت نه دویم باب دے تر(۴۲) پورے په دے کښ یؤولس عقلی دلیلونه ذکرکوی دپاره دَ اثبات دَ توحید اودا شواهد دی دپاره دَ دعوے دَ سورة۔ اوپه دے کښ مثال دے دپاره دَ رد دَشرك، بیائیے اصول ذکرکړی دی دپاره دَحصول دَ دعوے دَ سورة اوپه مینځ دَ اصولوکښ دَ مشرکانواووه قبائح ئے ذکرکړی دی۔ اودَ هغوی تحذیرذکرکوی اوفرق ذکرکوی دَ ربوٰ اودَ زکوٰة۔ اوتخویف دنیوی اودَ هغے اسباب ئے ذکرکړی دی دا (۱۹) ایت دلیل عقلی دے دَپاره دَ اثبات دَ توحید چه په تیرشوی ایاتونو کښ ذکرشو په دیکښ اودَ دے نه روستودلیلونو کښ انقلابات دَ حالاتوذکرکوی اشاره ده اثبات دَ دعوے دَ سورة ته۔ په دے ایت کښ ئے درے احوال انقلابیه ذکرکړیدی او ځلورم انقلاب کښ ذکردَ قیامت دے۔

[۲۰] دابل دلیل عقلی دے دَ دواړومقصدونودپاره ﴿مِنْ تُرَابٍ﴾ مراد دَ دے نه پیدائش دَ ادم علیه السلام دے دَ خاورونه اومعنیٰ دَ ﴿خَلَقَكُمْ﴾ خلق اصلکم یا مراد دَ دے نه هرانسان دے ځکه چه هرانسان دَ نطفے نه پیدا دے اونطفه دَ خوراك نه پیداکیږی او خوراکونه دَ زمکے نه پیداکیږی۔

فائده: په دے سورة کښ دَ اوو ایاتونوپه اول کښ وَمِن اٰيٰتِهٖ، ذکرکړیدے دَ دے یووجه دا ده چه دغه

اَنْفُسِكُمْ اَزْوَاجًا لِّتَسْكُنُوْٓا اِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَّوَدَّةً وَّرَحْمَةً ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ﴿۲۱﴾ وَمِنْ
اٰيٰتِهٖ خَلْقُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَاخْتِلَافُ اَلْسِنَتِكُمْ وَاَلْوَانِكُمْ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّلْعٰلِمِيْنَ ﴿۲۲﴾ وَمِنْ
اٰيٰتِهٖ مَنَامُكُمْ بِالَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَابْتِغَآؤُكُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّسْمَعُوْنَ ﴿۲۳﴾ وَمِنْ
اٰيٰتِهٖ يُرِيْكُمُ الْبَرْقَ خَوْفًا وَّطَمَعًا وَّيُنَزِّلُ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَيُحْيٖ بِهِ الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ؕ اِنَّ فِيْ
ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ﴿۲۴﴾ وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ اَنْ تَقُوْمَ السَّمَآءُ وَالْاَرْضُ بِاَمْرِهٖ ؕ ثُمَّ اِذَا دَعَاكُمْ دَعْوَةً ۖ

ستاسو دَ جنس نه ښځيانې دپاره دَ دې چه ارام حاصل کړئ هغوی ته او پيدا کړے ده ستاسو په مينځ کښ مينه او ترس کول يقيناً په دے کښ ډير دليلونه دی دَ هغه قوم دپاره چه سوچ کوی (۲۱) او بعض دَ دليلونو دَ هغه نه پيدائش دَ اسمانونو او دَزمکے دے او جداوالے دَ ژبو ستاسو او دَرنګونو ستاسو دے يقيناً په دے کښ ډير دليلونه دی پوهه لرونکو لره (۲۲) او بعض دَ دليلونو دَ هغه نه خوب کول ستاسو دی دَ شپے او دَ ورځے او لټول ستاسو دی دَ فضل دَ هغه نه يقيناً په دے کښ ډير دليلونه دی هغه قوم لره چه غوږ ږدی (۲۳) او بعض دَ دليلونو دَ هغه نه داچه ښائي تاسوته بريښنا دَ ويرے او طمع نه او وروی دَ طرف دَ اسمان نه باران نو تازه کوی په هغے سره زمکه روستو دَ اوچيدلو دَ هغے نه يقيناً په دے کښ ډير دليلونه دی دپاره دَ هغه قوم چه عقل لری (۲۴) او بعض دَ دليلونو دَ توحيد او قدرت دَ اللّٰه تعالیٰ نه داچه ولاړدی اسمانونه او زمکه په حکم دَ هغه سره ښيا چه کوم وخت اواز در کړی تاسوته يو اواز

دليلونه په مدعا ثابتولو کښ ښه واضح دی۔ دويمه وجه داده چه هريودَ هغے نه په حقيقت کښ په ډيرو دليلونو باندے مشتمل دے۔

[۲۱] دابل دليل عقلی دے هرکله چه تيرشوی ايت کښ ماده دَ پيدائش اصلی ذکرشوه نوپه دے ايت کښ ماده دَ پيدائش ظاهری ذکرکوی اودارنګ اوّل ايت دليل دَ ايجاد دَ بشر دے نودا ايت دليل دے دَ بقا۔ (يعنی سلسله دَبشردَ قيامت پورے ده)

[۲۲] داهم دليل عقلی دے دپاره دَ دواړومقصدونو۔ تيرشوی دليلونه انفسی وواودا افاقی دليل دے۔ ﴿خَلْقُ السَّمٰوٰتِ﴾ نه مراد دَ هغے اوچت والے، مضبوط والے، بے ستنواودريدل، نه چودل اونه راغورزيدل وغيره دی ﴿وَالْاَرْضِ﴾ دَ دے نه مراد دَ هغے وسعت دے يعنی مختلف رنګونه مختلف اوازونه لهجے، فصاحت بلاغت اوپه هغے کښ مختلفے مرتبے، تردے پورے چه دوه تنه به داسے اونه مومے چه په دے ټولواوصافو کښ يوشان وی ﴿وَاَلْوَانِكُمْ﴾ سپين، سور، تور وغيره او مختلف مخونه او سترګے پوزه وغيره هيڅ دوه کسان به داسے ملاؤنه شی چه په صورت کښ پوره پوره برابروی۔

[۲۳] دابل دليل عقلی، انفسی دے چه متعلق دے دَ زمانياتوسره چه شپه اوورځ ده اوهرکله چه دَ شپے خوب زيات وی په خوب دَ ورځے باندے دَ دے وجے الّيل ئے وراندے کړوپه النهارباندے اوهرکله چه کسب اوطلب دَ فضل (دَ روزئے اودَعلم) په شپه او ورځ د واړو کښ کيږی نوهغه ئے عام ذکرکړی دی۔

[۲۴] دابل دليل عقلی دے هرکله چه مخکښ ئے عوارض انفسيه ذکرکړل نوپه دے دليل کښ

مِّنَ الْاَرْضِ اِذَآ اَنْتُمْ تَخْرُجُوْنَ ﴿۲۵﴾ وَلَهٗ مَنْ فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ كُلٌّ لَّهٗ قٰنِتُوْنَ ﴿۲۶﴾ وَهُوَ الَّذِیْ
یَبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ یُعِیْدُهٗ وَهُوَ اَهْوَنُ عَلَیْهِ ؕ وَلَهُ الْمَثَلُ الْاَعْلٰی فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ وَهُوَ الْعَزِیْزُ
الْحَكِیْمُ ﴿۲۷﴾ ع ضَرَبَ لَكُمْ مَّثَلًا مِّنْ اَنْفُسِكُمْ ؕ هَلْ لَّكُمْ مِّنْ مَّا مَلَكَتْ اَیْمَانُكُمْ مِّنْ شُرَكَآءَ فِیْ مَا رَزَقْنٰكُمْ
فَاَنْتُمْ فِیْهِ سَوَآءٌ تَخَافُوْنَهُمْ كَخِیْفَتِكُمْ اَنْفُسَكُمْ ؕ كَذٰلِكَ نُفَصِّلُ الْاٰیٰتِ لِقَوْمٍ یَّعْقِلُوْنَ ﴿۲۸﴾ بَلِ اتَّبَعَ

دَ زمکے نه (دَ راوتلودپاره) دغه وخت به تاسو ټول را اوځئ (۲۵) او خاص په اختیار دَ الله تعالی کښ دی هغه څوك چه په اسمانونو کښ دی او زمکه کښ دی ټول هغه لره تابع دی (۲۶) او خاص الله تعالی هغه ذات دے چه اول پیدائش کوی بیابه دوباره هم کوی او دا (ټول) هغه ته اسان دی او خاص الله تعالی لره صفت اوچت دے په اسمانونو کښ او زمکه کښ او خاص هغه زورآور اوحکمت والا دے (۲۷) بیان کړیدے ستاسو دَ پوهے دپاره مثال دَ جنس ستاسونه ایا شته تاسو لره دَ هغه چانه چه مالکان دی بنی لاسونه ستاسو دَ هغوی څوك حصه داران په هغه مال کښ چه مونږ تاسوته درکړیدے نوتاسو په هغے کښ برابر اختیار مندیئ چه ویریگئ دَ دوی نه پشان دَ ویرے ستاسو دَ رونړو ستاسو نه دغه شان جدا جدا بیانوو مونږ ایاتونه دپاره دَ هغه قوم چه عقل لری (۲۸) بلکه روان دی

عوارض افاقیه ذکر کوی چه هغه برق او باران دے۔

[۲۵] دابل دلیل عقلی دے دَ خلق دَ اسمان او زمکے نه روستودَ هغے قیام(ټینګیدل) ذکر وی۔ اودَ دے ټولوځیزونوفناته اشاره کوی په اثبات دَ خروج (وتل) دَ زمکے نه۔

[۲۶] دابل دلیل عقلی دے روستودَ ذکردَ اسمان اودَ زمکے اودَ اهل دَ هغے نه ﴿كُلٌّ لَّهٗ قٰنِتُوْنَ﴾ دَ دے نه قنوت تسخیری مراد دے یعنی په ژوند اومرګ اوصحت او مرض وغیره کښ دَ الله تعالی دَ حکم دَ لاندے دی یا مراد دَ دینه قنوت اختیاری دے او مراد دَ دے نه صالحین دی۔

[۲۷] دا بل دلیل عقلی دے دَتوحید سره دَ اثبات دَبعث بعد الموت نه ﴿وَهُوَ اَهْوَنُ عَلَیْهِ﴾ ضمیردَ هُوَ راجع دے دواړو ذکرکړے شوی حالتونوته په تاویل دَ مذکورسره نوهیڅ اشکال نیشته اوکه ضمیردَ هُوَ اعادے ته راجع شی نواَهْوَنُ کښ تفضیل په اعتباردَ عقیدے دَ بشر دے یعنی دَ دوی په نیز باندے دوباره کار دَ اول ځل نه زیات اسان وی۔

[۲۸] روستودَ اثبات دَ توحیدنه په دلیلونوسره اوس وضاحت کوی په مثال سره ﴿مِنْ اَنْفُسِكُمْ﴾ ستاسودَ جنس نه ځکه چه مریان هم انسانان دی یا مراد دَ دے نه نزدے دَ ځیزونونه تاسوته ﴿فَاَنْتُمْ فِیْهِ سَوَآءٌ﴾ هرکله چه شرکت کښ برابرے نه وی دَ دے وجے نه دلته ئے مقید کړوپه مساوات سره په اختیار او تصرف کښ بیائے بیان دَ مساوات اوکړو په دے قول سره چه ﴿تَخَافُوْنَهُمْ﴾ یعنی هرکله چه دوه تنه په شرکت اوتصرف کښ برابروی نویوتن تصرف بغیردَ اجازت دَبل نه نشی کولے بلکه دَ هغهٔ دَخفګان یا دَغضب نه ویره کوی۔ حاصل دَمثال دا دے چه الله تعالی مولی دے اوټول انسانان دَ هغه مریان او وینځے دی(مملوك دی) نوهرکله چه تاسوخپلومملوکانولره خوراك څکاك وغیره ورکوئے لیکن په خپل مال کښ داسے تصرف نه ورکوئے چه تاسو سره برابرشی بلکه په داسے شرکت سره تاسوډیرخفه کیږئ نوځه

الَّذِيْنَ ظَلَمُوْٓا اَهْوَآءَهُمْ بِغَيْرِ عِلْمٍ ۚ فَمَنْ يَّهْدِيْ مَنْ اَضَلَّ اللّٰهُ ۭ وَمَا لَهُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ۲۹ فَاَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّيْنِ حَنِيْفًا ۭ فِطْرَتَ اللّٰهِ الَّتِيْ فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا ۭ لَا تَبْدِيْلَ لِخَلْقِ اللّٰهِ ۭ ذٰلِكَ الدِّيْنُ الْقَيِّمُ ۙ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ۳۰ مُنِيْبِيْنَ اِلَيْهِ وَاتَّقُوْهُ وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَلَا تَكُوْنُوْا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ۳۱

هغه څوک چه ظلم ئے کړیدے په خواهشاتو خپلو پسے بغیر دَ دلیل نه نو څوک به هدایت ورکړی هغه چاته چه اللّٰه تعالیٰ بے لارے کړے وی او نیشته دوی لره هیڅ مددګاران (۲۹) نو برابر کړه خپل مخ دین ته کلك په توحید باندے (لازم اونیسه) دین دَ اللّٰه تعالیٰ هغه چه پیدا کړی دی خلقو لره په هغے باندے نیشته بدلیدل دَ پیدا وخت دَ اللّٰه تعالیٰ دغه دے دین پوخ او لیکن ډیر خلق نه پوهیږی (۳۰) ورګرځیدونکی ئے هغه ته اویره کوئ دهغه نه او دَمونځ پابندی کوئے اومه کیږئ دَ ډلے دَ مشرکانونه (۳۱)

رنګه وائے او عقیده لرئے چه اللّٰه تعالیٰ بزرګانو اولیاؤ وغیره ته په خپل بعض مملوکاتو او مخلوقاتو کښ داسے تصرف ورکړے دے چه هغوی دَ اللّٰه تعالیٰ پشان په قدرت مستقله سره په هغے کښ تصرف کوی چه کله او غواړی نو څوک مریض کړی نوچاله شفا ورکړی څوک غریب کړی څوک مالدارکړی نوهرکله چه په خپله په داسے حالت باندے خفه کیږئ نواللّٰه تعالیٰ خو (اغنیٰ الشرکاء عن الشرك دے) نوهغه خو خامخا په دے سره خفه کیږی۔

[۲۹] دا زجردے چه سره دَ دے دلیلونواومثالونونه دَ دے منکرینودَ انکارسبب اتباع دَ هوٰی ده اوپه داسے حال کښ چه دَ اتباع دَ خواهش دَ وجے دَ دلیلونواومثالونونه انکارکوی نودوی ته هدایت نه نصیب کیږی﴿بِغَيْرِ عِلْمٍ﴾قید دپاره دَ تاکید دَ جهل دَ دوی دے یعنی که چرے دَ اتباع دَ هوٰی سره علم وی نودَ دے علم په سبب سره کله کله واپس شی تابعدارئے دَ خواهش نه۔

[۳۰] هرکله چه تیرشوی ایت کښ زجرذکرکړوپه اتباع دَخواهشاتوسره نوپه دیکښ توجه ورکوی تابعدارئے دَ دین حق ته چه دین فطری دے یعنی توحید خالص اودَ دے ایت نه اصول ذکرکوی دپاره دَحصول دَنصرت الٰهی چه دعوئ دَسورة ده ﴿فِطْرَتَ﴾ وزن دَ فعلت دے دَ فَطَرنه یعنی حال دَ پیدائش چه اللّٰه تعالیٰ په دغه حال باندے ټول خلق پیداکړی دی اوهغه دَ انسان طبیعت دے اوهغه توحید دے په دلیل دَحدیث صحیح سره (کل مولود یولد علی الفطرت فابواه یهودانه اوینصرانه او یمجسانه) هربچے پیداکیدے شی په دین دَتوحید باندے نوروستومواوپلار(دهٔ لره دَ فطرت نه واړوی) یهودی ئے کړی یا نصرانی یامجوسی۔ یعنی که چرے انسان دَپاره څه نورعوارض موانع نه وے نودے به همیشه دَ توحیدپه عقیده باندے وے ﴿لَا تَبْدِيْلَ لِخَلْقِ اللّٰهِ﴾ دَ خَلقِ اللّٰهِ نه مراد فطرت دے نومعنیٰ داشوه چه هیڅ انسان دَ توحید نه بغیرپه بدله عقیده باندے نه پیدا کیږی۔ یا دَ خلق اللّٰه نه تقدیرمراد دے چه اللّٰه تعالیٰ چه دَچا دپاره سعادت یا شقاوت مقدرکړے وی نوهغه تقدیرنشی بدلیدلے۔ یا دَخلق اللّٰه نه مراد دینْ دَاللّٰه تعالیٰ دے بنا په دے معنیٰ باندے چه نفی په معنیٰ دَ نهی دے یعنی مه بدلوئے دین دَتوحید دَ اللّٰه تعالیٰ لره په شرك سره۔

[۳۱] دا نورځلوراصول دی دپاره دَتکمیل دَ اقامت للدین (۱)انابت،(۲) تقویٰ، (۳) اقامة الصلوٰة، (٤) قطع تعلق دَمشرکانو سره۔ مراد دَ انابت نه حق پرستی ده چه دَ ضد اوتعصب نه بچ وی ﴿وَلَا تَكُوْنُوْا

مِنَ الَّذِيْنَ فَرَّقُوْا دِيْنَهُمْ وَكَانُوْا شِيَعًا ؕ كُلُّ حِزْبٍۭ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُوْنَ ﴿۳۲﴾ وَاِذَا مَسَّ النَّاسَ ضُرٌّ دَعَوْا
رَبَّهُمْ مُّنِيْبِيْنَ اِلَيْهِ ثُمَّ اِذَآ اَذَاقَهُمْ مِّنْهُ رَحْمَةً اِذَا فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ بِرَبِّهِمْ يُشْرِكُوْنَ ﴿۳۳﴾ لِيَكْفُرُوْا
بِمَآ اٰتَيْنٰهُمْ ؕ فَتَمَتَّعُوْا ۟ فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ﴿۳۴﴾ اَمْ اَنْزَلْنَا عَلَيْهِمْ سُلْطٰنًا فَهُوَ يَتَكَلَّمُ بِمَا كَانُوْا بِهٖ
يُشْرِكُوْنَ ﴿۳۵﴾ وَاِذَآ اَذَقْنَا النَّاسَ رَحْمَةً فَرِحُوْا بِهَا ؕ وَاِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌۢ بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْهِمْ اِذَا هُمْ
يَقْنَطُوْنَ ﴿۳۶﴾ اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّ اللّٰهَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَقْدِرُ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۳۷﴾

(یعنی) دَ هغه کسانو نه چه ټکړے کړے دے دین خپل او شول مختلف ډلے هریوه ډله په هغه طریقه باندے چه دَ دوی سره ده خوشحاله ده (۳۲) او هر کله چه اورسی (بعضے) خلقوته تکلیف رابلی خپل رب لره اخلاص کوؤنکی وی هغه ته بیا هرکله چه اوځکوی دوی ته دَ خپل طرف نه ارام دغه وخت یوه ډله دَ دوی نه دَ رب خپل سره شریکان جوړوی (۳۳) (عاقبت دا) چه ناشکری اوکړی دَ هغه نعمت چه مونږ دوی ته ورکړے وی نومزے او کړئے (دَ دنیا) زرده چه پوهه به شئے (۳٤) ایا نازل کړے دے مونږ په دوی باندے دلیل نو هغه ثابتوی (بندګی) دَ هغه چاچه دوی ئیے دَ اللّٰه تعالیٰ سره شریکوی (۳۵) او هر کله چه اوځکوو مونږ انسانانو ته خوشحالی دَ دنیا لوئي کوی په هغے سره او که چرے اورسی دوی ته بدحالی په وجه دَ هغه عملونو چه مخکښ لیږلی دی لاسونو دَ دوی دغه وخت دوی ناامیدی کوی (۳٦) ایا او دوی نه ګوری چه یقیناً اللّٰه تعالیٰ فراخوی روزی چاڅره چه اوغواړی اوتنګوی یقیناً په دے کښ ډیر دلیلونه دی هغه قوم لره چه ایمان لری (۳۷)

مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ﴾ یعنی دَ هغوی سره دوستانه او شرکت په غم ښادئے کښ او مشابهت په هیڅ عمل کښ مه کوئے۔

[۳۲] دَ دے ځائے نه دَ مشرکانواته صفات قبیحه ذکرکوی چه هغهٔ اسباب دی دپاره دَ لَا تَكُوْنُوْا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ۔ دَ تفریق دَ دین دا معنیٰ ده چه هریو خپل دین جداجدا جوړ کړے دے یعنی عقیدے اوعملونه ئیے دَ خپل ځان نه جوړ کړی دی اوهغے ته ئے دَ دین نوم ایښے دے ﴿وَكَانُوْا شِيَعًا﴾ تشیع نه مراد دَ یوبل سره ملګرتیا اوډله بازی کول دی اودا تعصب دے اوخوشحالی په دین خپل دا ده چه هغه حق ګنړی اوثواب ئے ګنړی اوپه هغے باندے مالی جانی قربانی کوی۔

[۳۳] دا زجردے اوپه دے کښ دَ مشرکانو یو صفت ذکرکړے دے۔

[۳٤] په دے کښ بل صفت دَ دوی ذکر دے چه هغه کفر(ناشکری) دَ نعمت دَ اللّٰه ده۔

[۳۵] په دے کښ هم زجردے اوذکرد بل وصف دَ مشرك دے یعنی دَ مشرکینو سره په شرك باندے هیڅ دلیل منزّله نیشته معلومه شوه چه شرك صرف په تقلید سره کوی۔

[۳٦] داهم زجردے اوپه دے کښ دوه صفات دَ مشرکانوذکرکوی او دا قسم مشرك کافرد مخکښنی نه سخت دے په کفر کښ ځکه چه دے په هیڅ حال کښ اللّٰه تعالیٰ نه یا دوی۔

[۳۷] دا دلیل عقلی دَ توحید دے او رد دے په هغه انسان باندے چه دَ هغه حال په مخکښ آیت کښ

فَاٰتِ ذَا الْقُرْبٰى حَقَّهٗ وَالْمِسْكِيْنَ وَابْنَ السَّبِيْلِ ؕ ذٰلِكَ خَيْرٌ لِّلَّذِيْنَ يُرِيْدُوْنَ وَجْهَ اللّٰهِ ۫ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ
الْمُفْلِحُوْنَ ﴿۳۸﴾ وَمَآ اٰتَيْتُمْ مِّنْ رِّبًا لِّيَرْبُوَا۟ فِيْٓ اَمْوَالِ النَّاسِ فَلَا يَرْبُوْا عِنْدَ اللّٰهِ ۚ وَمَآ اٰتَيْتُمْ مِّنْ زَكٰوةٍ
تُرِيْدُوْنَ وَجْهَ اللّٰهِ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُضْعِفُوْنَ ﴿۳۹﴾ اَللّٰهُ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ ثُمَّ رَزَقَكُمْ ثُمَّ يُمِيْتُكُمْ ثُمَّ ع ۱۴
يُحْيِيْكُمْ ؕ هَلْ مِنْ شُرَكَآئِكُمْ مَّنْ يَّفْعَلُ مِنْ ذٰلِكُمْ مِّنْ شَيْءٍ ؕ سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿۴۰﴾ ظَهَرَ

نو ورکوه رشته دار ته حق دَ هغه او مسکین ته او مسافر ته دا ډیر فائِده مند دے هغه چاله چه غواړی مخ دَ اللّٰه تعالیٰ او دغه کسان دوی پوره کامیاب دی (۳۸) او هغه چه ورکوئے تاسو څه مال په نیت دَ زیاتی چه زیات شئ په مالونو دَ خلقو کښ نونه زیاتیږی دَ اللّٰه تعالیٰ په نیز او هغه چه ورکوئے تاسو څه زکوٰة چه غواړئے په هغے سره مخ د اللّٰه تعالیٰ نو دغه کسان دوی ډیر وؤنکی دی (مالونو او اجرونو لره) (۳۹) اللّٰه تعالیٰ هغه ذات دے چه تاسو ئیے پیدا کړئے بیا روزی درکوی تاسوته بیا به مړه کوی تاسو بیابه ژوندی کوی تاسو ایا شته ستاسو دَ شریکانونه داسے کس چه او کړی دَ دے کارونونه څه کار پاك دے اللّٰه تعالیٰ او بره دے دَهغے نه چه دوی ئیے شریکان جوړوی (۴۰)سکاره شویدی

ذکر کړے شویعنی فراخی اوتنګسیا دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه وی نو ولے تکبر او نا امیدی کوئے۔

[۳۸] داهم دَ هغه اصولوسره تعلق لری چه دَ(۳۰) ایت نه شروع شوی دی تیرشوی اصول دَ اصلاح دَ نفس سره تعلق لری اوپه دے کښ احسان دَخلقوسره دَپاره دَ دے چه دعوت دَحق ته لار اسانه شی﴿يُرِيْدُوْنَ وَجْهَ اللّٰهِ﴾ ارادے نه مراد نیت کول دی نواشاره ده چه ثواب په نیت سره حاصلیږی۔

[۳۹] دا منع کول دی دَ مقابل دَاحسان نه چه ربوٰ اورياء ده۔ اوپه دے ایت کښ تقابل دے دَ ربوٰ اودَ زکوٰة په خلاف دَ ګمان دَ خلقوسره۔ ناپوهه خلق ګمان کوی چه په ربوٰ سره مال زیاتیږی نواوئے فرمائیل فَلَا يَرْبُوْا عِنْدَ اللّٰهِ، او ګمان کوی چه په زکوٰة سره مال کمیږی نواوئیے فرمائیل﴿فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُضْعِفُوْنَ﴾ ربوٰپه مکه کښ حرام شوے نه وه لیکن بدی اوقباحتونه دَ هغے بیانیدل دَپاره دَ دے چه خلق ترینه ځان بچ کړی یا دَ ربوٰ نه مراد (سپك خوئی دے) چه چاله هدیه په دے اراده ورکوی چه دے به دَ دے په وجه ماله زیات راکړی لکه مدارك کښ لیکلی دی ﴿زَكٰوةٍ﴾ دَ دے نه مراد فرضی زکوٰة دے بنا په قول دَ هغه مفسرینوچه هغوی وئیلی دی چه په مکه کښ زکوٰة فرض شویوؤلیکن مقدارونه ئیے نوؤمقرر کړے شوی۔ یا مرادترینه هره صدقه اوهدیه ده په دے نیت سره چه پاکوالے او زیات ثواب په هغے سره حاصلوی یعنی دَ زکوٰة نه معنیٰ لغوی مراددہ۔

[۴۰] داهم دلیل عقلی دے اوترغیب دے چه په هرعبادت کښ اراده دَ وَجهُ اللّٰه کوئے ځکه هغهٔ په تاسوباندے انعام دَ خَلق اودَ رزق کړیدے۔

الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ لِيُذِيقَهُمْ بَعْضَ الَّذِي عَمِلُوا لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿٤١﴾
قُلْ سِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَانْظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِينَ مِنْ قَبْلُ ۚ كَانَ أَكْثَرُهُمْ مُشْرِكِينَ ﴿٤٢﴾ فَأَقِمْ
وَجْهَكَ لِلدِّينِ الْقَيِّمِ مِنْ قَبْلِ أَنْ يَأْتِيَ يَوْمٌ لَا مَرَدَّ لَهُ مِنَ اللَّهِ يَوْمَئِذٍ يَصَّدَّعُونَ ﴿٤٣﴾ مَنْ كَفَرَ فَعَلَيْهِ
كُفْرُهُ ۖ وَمَنْ عَمِلَ صَالِحًا فَلِأَنْفُسِهِمْ يَمْهَدُونَ ﴿٤٤﴾ لِيَجْزِيَ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ مِنْ فَضْلِهِ ۚ

عذابونه په اوچه او لونده کښ په وجه د هغه ګناهو نو چه کړی دی لاسونو د خلقو د پاره د دے چه اوځکوی دوی ته بعضے سزا د هغه عملونوچه دوی کړی دی د پاره د دے چه دوی اوګرځی طاعت د اللّٰه تعالیٰ ته (٤١) ته اُوایه اوګرځئے په ملك کښ نو اوګورئے چه څنګه وؤ انجام د هغه کسانو چه دوی نه مخکښ وؤ ډیر د هغوی نه مشرکان وؤ (٤٢) نو برابر کړه مخ خپل دین پوخ ته مخکښ د دے نه چه رابشی ورځ چه نه به وی واپسی د هغے د اللّٰه تعالیٰ د طرفنه په دغه ورځ به ټکړے شی خلق (٤٣) چاچه کفر کړے دے نو په هغه باندے به سزا د کفر د هغه وی او چاچه عمل کړے وی موافق د سنت سره نو دوی خپلو ځانونو لره ښه ځائے تیاروی (٤٤) د پاره د دے چه بدله ورکړی هغه چاته چه ایمان ئے راوړے دے اوعملونه ئے کړی دی د سنت موافق د فضل خپل نه

[٤١] په دے ایت تخویف دنیوی دے سره د ذکر کولود سبب د عذاب نه ﴿اَلْفَسَادُ﴾ نه مراد نقصان په هره فائده کښ ﴿فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ﴾ هغه طوفانونه چه په هغے سره جهازونه کشتئ غرق شی ډیرموجونه چه جهازونه نشی چلیدلے۔ دواب د سمندرهلاکیدل د بسکارکمیدل۔ د باران نه کیدلود وجے نه ملغرے په صدفونو کښ نه جوړیدل وغیره داعذابونه په سمندر کښ راځی ﴿بِمَا كَسَبَتْ﴾ دارنګ په سورة شوریٰ (٣٠) ایت کښ هم دی اودا سزا د بعض عملونوده نوکه مؤمنان وی نود بعض نه ورته اللّٰه تعالیٰ معافے اوکړی اوکه کافران وی یا مؤمنان ګنهګاران چه توبه اونه باسی نو نورعذاب ورلره برزخ کښ او اخرت کښ ورکوی ﴿يَرْجِعُونَ﴾ مراد د دے نه توبه کول په زړه کښ اوپه ژبه سره د پریخودلو د ګناه نه۔

[٤٢] دا تاکید دے د تیرشوی ایت ﴿كَانَ أَكْثَرُهُمْ مُشْرِكِينَ﴾ یعنی لوی سبب د عذابونوشرك وؤاوپه بعض قومونو باندے د نورو ګناهونود وجے نه هم عذابونه راغلی دی۔

[٤٣] د دے ایت نه ترآخرد سورة پورے اخری باب دے په دیکښ امردے په ټینګیدلوسره په توحید باندے او تخویف اُخروی اوبشارت مختصر ذکرکوی په درے اياتونوکښ۔ بیا عقلی دلیلونه پنځه ذکر کوی (٤٦،٤٨،٤٩،٥٠، ٥٤) اودعویٰ د سورة په (٤٧) کښ او زجرمنکرینوته په (٥١) کښ اوتسلّئ نبی ﷺ ته په (٥٢، ٥٣) کښ بیا تخویف اخروی په (٥٥، ٥٦،٥٧) او زجرپه انکارد قرآن سره په (٥٨،٥٩) کښ اواختتام ذکرکوی په تسلّئ سره چه متعلق دے د اوّل د سورة سره په (٦٠) کښ۔ په دے (٤٣) ایت کښ حکم کوی په اقامت د دین د پاره د دفع کولود عذاب چه مخکښ اياتونوکښ ذکرکړے شواو ﴿فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ الْقَيِّمِ﴾ نه مراد ټینګیدل دی توحید باندے سره د مخالفت د اعمالو د مشرکانونه۔

[٤٤] په دے کښ د دواړو ډلو ذکر دے په تخویف اوبشارت سره۔

اِنَّهٗ لَا یُحِبُّ الْكٰفِرِیْنَ ﴿۴۵﴾ وَمِنْ اٰیٰتِهٖۤ اَنْ یُّرْسِلَ الرِّیٰحَ مُبَشِّرٰتٍ وَّلِیُذِیْقَكُمْ مِّنْ رَّحْمَتِهٖ وَلِتَجْرِیَ
الْفُلْكُ بِاَمْرِهٖ وَلِتَبْتَغُوْا مِنْ فَضْلِهٖ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۴۶﴾ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ رُسُلًا اِلٰى
قَوْمِهِمْ فَجَآءُوْهُمْ بِالْبَیِّنٰتِ فَانْتَقَمْنَا مِنَ الَّذِیْنَ اَجْرَمُوْا ؕ وَكَانَ حَقًّا عَلَیْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِیْنَ ﴿۴۷﴾ اَللّٰهُ
الَّذِیْ یُرْسِلُ الرِّیٰحَ فَتُثِیْرُ سَحَابًا فَیَبْسُطُهٗ فِی السَّمَآءِ كَیْفَ یَشَآءُ وَیَجْعَلُهٗ كِسَفًا فَتَرَى الْوَدْقَ
یَخْرُجُ مِنْ خِلٰلِهٖ ۚ فَاِذَاۤ اَصَابَ بِهٖ مَنْ یَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖۤ اِذَا هُمْ یَسْتَبْشِرُوْنَ ﴿۴۸﴾ وَاِنْ كَانُوْا مِنْ قَبْلِ
اَنْ یُّنَزَّلَ عَلَیْهِمْ مِّنْ قَبْلِهٖ لَمُبْلِسِیْنَ ﴿۴۹﴾ فَانْظُرْ اِلٰۤى اٰثٰرِ رَحْمَتِ اللّٰهِ كَیْفَ یُحْیِ الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ؕ

یقیناً اللّٰه تعالیٰ نه خوښوی کافرانو لره (٤٥) او بعض دَ دلیلونو دَ توحید او دَ قدرت دَ اللّٰه تعالیٰ نه دا چه رالیږی هواګانی زیږه ورکوؤنکی او د پاره دَ دے چه اوښکوی تاسوته څه حصه دَ رحمت خپل نه او دپاره دَ دے چه روانے وی کشتئے په حکم دَ اللّٰه تعالیٰ سره اودے دپاره چه اولټوئ دَ فضل دَ اللّٰه تعالیٰ نه او دے دپاره چه شکر اوکړئ تاسو (٤٦) او یقیناً لیږلی دی مونږ ستانه رواندے رسولان قومونو دَ هغوی ته نو راوړل ئے دوی ته ښکاره احکام نو بدله واخستله مونږ دَ مجرمانو نه اودے ضروری په مونږ باندے مدد کول دَ مؤمنانو سره (٤٧) اللّٰه تعالیٰ خاص هغه ذات دے چه رالیږی هواګانی نو راواوچتے کړی وریځے نو خورے کړی هغے لره اللّٰه تعالیٰ په هره طرف کښ څه رنګه چه اوغواړی اوګرځوی اللّٰه تعالیٰ دا وریځے ټکړے ټکړے لاندے باندے نو وینے ته څاڅکی دَباران چه راؤځی دَ مینځ دَهغے نه نوکم وخت چه اورسوی هغے لره هغه چاته چه اوغواړی اللّٰه تعالیٰ دَ بندګانو خپلو نه دغه وخت دوی ډیر خوشحاله شی (٤٨) اګر چه وؤ دوی مخکښ دَراورولو دَ باران نه په دوی باندے مخکښ دَ دے وخت نه نا امیدی کوؤنکی (٤٩) نو اوګوره نښو دَ رحمت دَ اللّٰه تعالیٰ ته چه څه رنګه تازه کوی اللّٰه تعالیٰ زمکه روستو دَ اوچیدلو دَ هغے نه

[٤٥] داهم متعلق دے په تیرشوی ایت پورے په لف نشرغیرمرتب سره۔

[٤٦] دابل دلیل عقلی دے اوپه دیکښ وجه دَ لَایُحِبُّ الْکٰفِرِیْنَ، ده یعنی کافردَ ښکاره ایاتونونه منکر دے اودَ هواګانودَ رالیږلوئیے پنځه فائدے ذکرکړی دی۔

[٤٧] هرکله چه ظاهری انعامات ئیے ذکرکړل نواوس باطنی انعام ذکرکوی اومقصد پکښ تائید دَدعوے دَ سورۃ دے ﴿حَقًّا عَلَیْنَا﴾ داحق اللّٰه تعالیٰ په ځان باندے لازم کړے په سبب دَ وعدے خپلے سره اودیته حق تفضلی وئیلے کیږی داحق واجبی نه دے پشان دَ وجوب په بندګانوباندے۔

[٤٨] دابل دلیل عقلی دے اومثال دَ نصرت اِلٰهیه دے لکه چه روستودَ نا اُمیدئ دَ خلقونه اللّٰه تعالیٰ باران اوکړی او خلق خوشحاله شی نو دارنګ روستودَکمزور والی دَ مؤمنانونه اللّٰه تعالیٰ به هغوی له نصرت او فتح ورکوی۔

[٤٩] دا تتمه دَ مخکښ ایت ده۔ دَ من قبله ضمیر وریځ ته راجع دے اویا دے وخت ته راجع دے اویا قرآن ته راجع دے یعنی دَ قرآن دَ هدایت نه ورواندے دا خلق دَ جهل دَ وجے دَ سوکړے په وخت به ډیر نا امیده

اِنَّ ذٰلِكَ لَمُحْیِ الْمَوْتٰى ۚ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ ﴿۵۰﴾ وَلَىِٕنْ اَرْسَلْنَا رِیْحًا فَرَاَوْهُ مُصْفَرًّا لَّظَلُّوْا مِنْۢ بَعْدِهٖ
یَكْفُرُوْنَ ﴿۵۱﴾ فَاِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتٰى وَلَا تُسْمِعُ الصُّمَّ الدُّعَآءَ اِذَا وَلَّوْا مُدْبِرِیْنَ ﴿۵۲﴾ وَمَآ اَنْتَ بِهٰدِ الْعُمْیِ
عَنْ ضَلٰلَتِهِمْ ؕ اِنْ تُسْمِعُ اِلَّا مَنْ یُّؤْمِنُ بِاٰیٰتِنَا فَهُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴿۵۳﴾ اَللّٰهُ الَّذِیْ خَلَقَكُمْ مِّنْ ضُعْفٍ
ثُمَّ جَعَلَ مِنْۢ بَعْدِ ضُعْفٍ قُوَّةً ثُمَّ جَعَلَ مِنْۢ بَعْدِ قُوَّةٍ ضُعْفًا وَّشَیْبَةً ؕ یَخْلُقُ مَا یَشَآءُ ۚ وَهُوَ

یقیناً دغه ذات ضرور ژوندی کوونکے دَ مړو دے او هغه په هر څیز باندے قدرت والا دے (۵۰) او که چرے اولیږو مونږ سیلئے نو اُوینی دوی فصل لره زیړنو شروع به شی روستو دَ هغے نه چه کفر به کوی پس یقیناً ته اورول نشے کولے مړوته او اورول نشے کولے کنړو ته بلنه هر کله چه دوی اوګرځی شا کوؤنکے (۵۲) اونه ئے ته هدایت کوؤنکے رندوته چه را اوباسے دَ ګمراهیځ دَ هغوی نه اورول نه شے کولے ته مګر هغه چاته چه یقین لری په ایاتونو زمونږ نو دوی حکمونه منی (۵۳) خاص اللّٰه تعالیٰ هغه ذات دے چه پیدا کړی ئے تاسو دَ کمزورئے نه بیا ئے ګرځولے دے روستو دَ کمزورئے نه طاقت بیا ئے ګرځولے دے روستو دَطاقت نه کمزورى او بوډا والے پیدا کوی څه چه اوغواړی او خاص اللّٰه تعالیٰ

کیدل دَ رحمت دَ اللّٰه تعالیٰ نه۔

[۵۰] دا بل دلیل عقلی دے او دَتیرشوی ایت سره تعلق لری یعنی اثارد باران ذکر کوی ځکه چه دلته دَ رحمت اللّٰهِ نه مراد باران دے او دَ اثارنه مراد بوټی ونے فصلونه وغیره دی۔

[۵۱] دازجردے یعنی سرهٔ دَ نعمت دَ باران اودَ فصلونونه که چرته دَ دوی دَ بدو عملونوپه وجے سره په دغه فصلونو باندے سیلئے دَ عذاب راشی او مړ اوے او زیړشی نو دوی توبه نه او باسی بلکه کفر کوی۔

[۵۳،۵۲] هرکله چه دَ دلیلونونه دَ مخالفینوانکارئے (په تیرشوی ایت کښ) ذکرکړو نواوس یواعتراض دفع کوی یعنی که څوك اعتراض اوکړی چه دا انکار دَ دوی دَ وجے دَ نقصان دَ دلیلونونه دے نو جواب اوشو چه دلیلونه خو پوره مؤثر دی ځکه چه مؤمنان ترینه فائدے اخلی لیکن په منکرانو کښ موانع دَ دوی دَ طرف نه موجودوی هغه داچه دوی ټول حواس ځان له بے کاره کړی دی دَ مړو پشان یا بعض حواس ئے بے کاره کړی دی لکه کونړپا روند۔

مسئله دَ سَماع موتیٰ: (چه مړی دَ دنیاوالو خبرے اوری اوکه نه اوری) مقام دَ دے مسئلے (دَ مړونه اوریدل خبرو دَ ژوندولره) دا اتفاقی مسئله وه قول دَ امام شافعیؒ اودَ امام احمدؒ په مغنی دَ ابن قدامة ج:۱۳، ص:۶۱۵ اوپه تکمله دَ شرح مهذب للنووی ج:۱۸، ص:۹۱ کښ ذکرکړیدے اودَ هغوی دلیل ئے ایت دَ سورة فاطر وما انت بمسمع من فی القبور ذکر کړیدے او دَ امام ابو حنیفهؒ په الکوکب الدری شرح الترمذی ج۱ص۳۱۹ کښ اوپه تفسیر مواهب الرحمان ج:۲۱، ص:۶۰ اوپه تفهیم المسائل ص:۷۳ کښ ذکر کړے دے ۔ او دارنګ په تفسیرد ایت انما یستجیب الذین یسمعون والموتیٰ یبعثهم اللّٰه سورة انعام:(۳۶) تفسیر خازن ج:۲، ص:۱۴ تفسیر نیشاپوری ج:۷، ص:۱۳۷ کښ لیکلی دی چه مړی نه اوری ۔ او دارنګ فتح القدیر، ص:۶۹، کتاب الجنائز کښ وئیلی دی چه دَ اکثرو علماؤ احناف قول دا دے ۔ دارنګ عینی په عمدة القاری:ج:۸، ص:۲۰۲ کښ لیکلی دی چه مړی نه اوری۔ شیخ رشید احمد

.....

ګنګوهی لیکلی دی چه دا قول دَ عائشه رضی اللّٰه عنها او ابن عباس رضی اللّٰه عنهما دے او دا قول دَ ملاعلی قاری دے په شرح:فقه اکبر، ص:۱۵۹ اودا قول دَتفتازانی دے شرح مقاصد، ج:۲، ص:۳۲۱ او دَ دے نه علاوه نورهم دَ فقهاؤمحدثینودا قول دے۔ که څوك اعتراض اوکړی چه عبد اللّٰه بن عمر رضی اللّٰه عنهما (دَ حدیث قلیب بدر) په وجه دَ دے قائل دے نو معلومه شوه چه مسئله کښ دَ صحابه کرامو ﷺ اختلاف وؤ۔ اول جواب دا دے چه هرکله عائشه رضی اللّٰه عنها دَ هغے حدیث مقصد بیان کړو نو ابن عمر رضی اللّٰه عنهما دَ هغے جواب ندے کړے نو اختلاف ختم شو، دویم جواب دا دے چه دا یو منصوصی موضع کښ ابن عمر رضی اللّٰه عنهما قائل دے هاں اختلاف دَ اهل علمو په دے کښ شته چه مواضع منصوصه کښ سماع ثابت ده اوکه نه ده۔ اکثر احناف وغیره مواضع منصوصه کښ هم دَ سماع قول نه دے کړے بلکه دَ هغے تاویلونه ئے کړیدی۔ او بعض اهل علم صرف په مواضع منصوصه کښ دَ سماع قائل دی لکه امام بخاری او صاحب دَفتح القدیرپه سماع دَ قرع النعال قائل دی او شیخ الاسلام ابن تیمیه او ابن قیم رحمهما اللّٰه هم په مواضِعو منصوصو کښ قائل دی اودارنګ علامه الوسی مفسردَ روح المعانی اوشاه انورشاه کاشمیری مصنف دَ فیض الباری شرح البخاری هم په مواضع منصوصو کښ دَ سماع قائل دی۔ او مواضع منصوصه صرف درے دی یو سماع دَ قرع النعال دویم حدیث بدر دا دواړه صحیح احادیث دی او دریم حدیث دَ سلام دے چه په هغے کښ ذکردَ اوریدلودَ سلام او جواب ورکول دی لیکن هغه حدیث صحیح نه دے اوځوك چه دَ مړی دَ هروخت دَ اوریدلو عقیده لری نودَ هغوی هیڅ صحیح دلیل نیشته نو دا عقیده دَ بدعت ده اوکله چه دَدے عقیدے دَ وجے دَ مړی نه شفاعت غواړی نو داشرك ته ذریعه ده اوکله چه دَ مړی نه حاجت پوره کیدل غواړی نو داخو بالکل شرك حقیقی دے۔ دلیل دَ مړودَ نه اوریدلو انك لاتسمع الموتیٰ(سورة نمل) فانك لاتسمع الموتیٰ (سورة روم) و ماانت بسمع من فی القبور (سورة فاطر) ایاتونه دی۔ طریقه دَ استدلال ئے دا ده چه اللّٰه تعالیٰ په دے ایاتونوکښ تشبیه دَ کافرانو(عنادیانو) دَ مړو سره ورکړیده په نه اوریدلو کښ (لکه چه په دے باندے تفسیر ابن جریر دَ دے ایت دَ لاندے تصریح کړیده او نور مفسرینو هم او صاحب دَ فتح القدیرهم) او وجه شبهه په مشبه به کښ زیاته وی یا مشهوره وی نو معلومه شوه چه مړی نه اوری په دے کښ استدلال دے په اشارة النص سره او هغه هم یقینی دے اګر چه عبارة النص دَ دے ایاتونو بیان دَ نه اوریدولو دَ عنادیانو دے۔

تنبیه: تفسیرابن کثیرکښ ئے ډیراحادیث ذکرکړی دی چه دلالت کوی په اوریدلو دَ مړو باندے؟ اول جواب دا دے چه په هغے کښ هیڅ حدیث صحیح متصل نیشته په بعضودَ هغے باندے تفسیرابن کثیر روح المعانی کښ حکم دَ ضعف کړے دے دویم جواب دا دے الشیخ محمد نسیب الرفاعی په مختصردَ ابن کثیر، ج:۳، ص:۴۴۵ کښ وئیلی دی چه په نسخه دَ ابن کثیرطبع بیروتی دارالاندلس کښ زیاتے راغلے دے (دَ دغه احادیثوواهیو) په بله نسخه دَ ابن کثیرکښ دس (دَ ځان نه داخل) کړے شوے دے شان دَ ابن کثیر دَ دے نه اوچت دے۔

الْعَلِيْمُ الْقَدِيْرُ ﴿٥٤﴾ وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ يُقْسِمُ الْمُجْرِمُوْنَ ۙ مَا لَبِثُوْا غَيْرَ سَاعَةٍ ؕ كَذٰلِكَ كَانُوْا
يُؤْفَكُوْنَ ﴿٥٥﴾ وَقَالَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ وَالْاِيْمَانَ لَقَدْ لَبِثْتُمْ فِيْ كِتٰبِ اللّٰهِ اِلٰى يَوْمِ الْبَعْثِ ۚ فَهٰذَا يَوْمُ
الْبَعْثِ وَلٰكِنَّكُمْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿٥٦﴾ فَيَوْمَئِذٍ لَّا يَنْفَعُ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مَعْذِرَتُهُمْ وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُوْنَ ﴿٥٧﴾
وَلَقَدْ ضَرَبْنَا لِلنَّاسِ فِيْ هٰذَا الْقُرْاٰنِ مِنْ كُلِّ مَثَلٍ ؕ وَلَئِنْ جِئْتَهُمْ بِاٰيَةٍ لَّيَقُوْلَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا
اِنْ اَنْتُمْ اِلَّا مُبْطِلُوْنَ ﴿٥٨﴾ كَذٰلِكَ يَطْبَعُ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِ الَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٥٩﴾ فَاصْبِرْ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ
حَقٌّ وَّلَا يَسْتَخِفَّنَّكَ الَّذِيْنَ لَا يُوْقِنُوْنَ ﴿٦٠﴾ ع ٩


په هرڅه پوهه او قدرت والا دے (٥٤) اوپه کومه ورځ چه قیامت قائم شی قسمونه به کوی مجرمان نه وؤ ایسار شوی دوی زیات دَ ساعت نه د غه شان دوی اوړیدلے کیدل دَحق نه (٥٥) اواوبه وائی هغه کسان چه ورکړے شویدے علم او ایمان یقیناً وخت تیر کړے دے تاسو په لیکلے شوی (تقدیر) دَ اللّٰه تعالیٰ کښ تروړځ دَ دوباره ژوند پورے نو دا ورځ دَ دوباره ژوند ده لیکن تاسو وئے چه پوهه مونه لرله (٥٦) نو په دغه ورځ نفع به نه ورکوی ظالمانو ته بهانے دَ هغوی اونه به دَ دوی توبه قبلولے شی (٥٧) او یقیناً بیان کړیدی مونږ خلقو ته په دے قرآن کښ دَهرقسم بیان نه او که چرے ته راوړے دوی ته یو ایت نو یقیناً وائي هغه ځوك چه کفرئے کړے دے چه تاسو نه ئے مګر باطل پرست ئیے (٥٨) دغسے مهر وهی اللّٰه تعالیٰ په زړونو دَ هغه چاچه نه پوهیږی (٥٩) پس صبر کوه یقیناً وعده دَ اللّٰه تعالیٰ حقه ده اوبے همته نکړی تا لره هغه کسان چه یقین نه لری (٦٠)

[٥٤] دا بل دلیل عقلی دے اوپه دیکښ انقلاب دَ حالاتودَ انسانانوذکرکوی اوتیرشوی ایت سره ربط دا دے چه اسماع او هدایت دَ دے وجے نه دَ اللّٰه تعالیٰ په اختیاراوقدرت کښ دے چه دا انقلاب دَ حالاتو ه په دے ایت کښ ذکردے داهم دَ اللّٰه تعالیٰ په اختیارکښ دے ﴿مِنْ ضُعْفٍ﴾ مراد ترینه نطفه ده چه کمزورے اوبه دی ﴿مِنْۢ بَعْدِ ضُعْفٍ﴾ اسم ظاهرئے ذکر کړو په دے کښ کمزورئے دَ طفولیت ته اشاره ده چه هغه ضعف دَ اندامونو دے اوقوت نه مراد طاقت دَ ځوانئے دے ﴿مِنْۢ بَعْدِ قُوَّةٍ﴾ په دے کښ طاقت دَ عقل او پوهے ته اشاره ده ﴿ضُعْفًا﴾ دَ دے نه مراد ضعف دَ ټولوقوّتونودے ﴿وَشَيْبَةً﴾ دَد ے نه مراد ښکاره آثار دَ بوډا والی دی چه سپین والے دَ ویښتودے۔

[٥٥] په دیکښ تخویف اخروی دے یعنی دَ تیرشوی ایت نه معلومه شوه چه دے انسان په دنیاکښ تربوډا والی پورے عمر اوژوند تیرکړے دے لیکن دَ هیبت اودَ رعب دَقیامت دَوجے نه یادَضد اوعناد دَ وجے نه به دوی انکارکوی او قسمونه به کوی۔

[٥٦] دا رد دے دَ دوی په دغه انکار باندے ﴿اُوْتُوا الْعِلْمَ وَالْاِيْمَانَ﴾ هرکله چه ایمان تفصیلی بغیرد علم دَ قرآن اوسنّت نه نهٔ حاصلیږی دَ دے وجے نه علم ئے په ایمان باندے مخکښ کړو ﴿فِيْ كِتٰبِ اللّٰهِ﴾ کتاب نه مراد تقدیردے یا مراد دَکتاب نه علم دَ اللّٰه تعالیٰ دے۔

[٥٧] داهم تخویف کښ داخل دے یعنی روستودَ شهادت کولودَ اهل علمونه دَ دوی هیڅ بهانه منظوره



(بقیه تفسیر دَ سورة الروم) نه ده ﴿وَلَاهُمْ يُسْتَعْتَبُوْنَ﴾ دا دَ عتبیٰ نه ماخوذ دے په معنیٰ دَ رجوع کولوسره اومراد دَ رجوع نه توبه کول دی یعنی دَ دوی نه به توبه نه طلب کیږی یا دَعتاب نه دے اومراد ترینه رضاکول دی یعنی دَ دوی نه به رضاکیدل نشی کیدے۔

[۵۸] په دے کښ اول ترغیب دے او اخری زجردے منکرینوته یعنی عذر ورته ځکه نفع نه ورکوی چه اللّٰه تعالیٰ دَ قرآن په ذریعه دَ دوی عذر زائل کړے دے او بیاهم دوی انکار کوو۔

[۶۰] دا تسلّی ده نبی ﷺ ته اوتفریع ده په پورتنی سورة باندے یعنی هرکله چه سورة کښ دلیلونه تفصیلی اومثال اوزجرونه وغیره بیان شول اوبیاهم دا منکرین ضد اوعنادکوی نوصبرکوه دَ دوی په انکار باندے ﴿وَلَا يَسْتَخِفَّنَّكَ﴾ مراد دَ دینه دَے صبرئے دَ وجے نه عذاب غوښتل دی په تلوارسره اودعوت اوتبلیغ پریخودل دی۔

سورة لقمان

ربط: دَ دے سورة دَ مخکښ سره په ډیروجوهوسره دے، اوله وجه داچه سورة عنکبوت کښ ترغیب وژجهاد اودعوت ته نو سورة روم کښ دَهغے نتیجه ئے بیان کړه په نصرت اوانقلاب سره نواوس په دے سورة کښ دَهغهٔ جهاد طریقه بیانوی په واقعة دَلقمان سره چه په دے طریقه جهاد اوکړے شی نونصرت الٰهی به هله حاصلیږی، دویمه وجه دا ده چه مخکښ اثبات دَ توحید ئے صرف په عقلی دلیلونوسره کړے وژنوپه دے سورة کښ دلیل نقلی دَ یوحکیم نه راوړی اشاره ده چه توحید صرف دَ پیغمبرانو مسئله نه ده بلکه دَ حکمت عقلیه سره هم موافق ده۔

دعویٰ دَ دے سورة : اثبات دَتوحید دے په دلیل نقلی سره دَ عقلی دلیلونوتفصیلیونه اومأخذ دَ دعوے (۱۲) ایت کښ دے او رد دے په درے قسمونودَ شرك باندے شرك فی التصرف اوشرك فی العلم اوشرك فی الدعاء۔

خلاصه دَ دے سورة: دا سورة تقسیم دے دوه بابونوته۔ اول باب دے تر(۱۹) ایت پورے په دے کښ اولاً ترغیب دے قرآن ته په ذکردَځلورووصفاتودَ قرآن اوځلورصفات دَ اهل قرآن سره ترپنځم ایت پورے بیا زجردے منکرینودَ قرآن ته په شپږقباحتونو دَ هغوی سره، سره دَ تخویف اوبشارت نه دَ (۶) نه تر(۹) پورے بیابودلیل عقلی تفصیلی دے په (۱۰،۱۱)کښ بیا دلیل نقلی دے دَ لقمان نه دَ هغه فائدودَپاره کوم چه مخکښ بیان کړے شوے تر(۱۹) ایت پورے۔

الٓمّٓ ﴿۱﴾ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْحَكِيْمِ ﴿۲﴾ هُدًى وَّرَحْمَةً لِّلْمُحْسِنِيْنَ ﴿۳﴾ الَّذِيْنَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ
وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ هُمْ يُوْقِنُوْنَ ﴿۴﴾ اُولٰٓئِكَ عَلٰى هُدًى مِّنْ رَّبِّهِمْ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ
الْمُفْلِحُوْنَ ﴿۵﴾ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّشْتَرِيْ لَهْوَ الْحَدِيْثِ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ ۖ
وَّيَتَّخِذَهَا هُزُوًا ۭ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ﴿۶﴾ وَاِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِ اٰيٰتُنَا وَلّٰى مُسْتَكْبِرًا كَاَنْ لَّمْ

الف لام میم (۱) دا ایاتونه دَ داسے کتاب دی چه دَ حکمتونونه ډک دے (۲) هدایت اورحمت دے دپاره دَخائسته کارکوونکو (۳) هغه کسان دی چه پابندی کوی دَمونځ او ورکوی زکوٰة او دوی په اخرت باندے یقین لری (٤) دغه صفتونو والا په هدایت باندے دی دَ طرف دَ رب دَ دوی نه اودغه کسان خاص دوی کامیاب دی (٥) او بعض دَ خلقونه داسے دی چه اخلی بے فائدے خبرے دپاره دَ دے چه واړوی خلق دَ لار دَ اللّٰه تعالیٰ نه بغیر دَ دلیل نه او گرځوی هغے لره ټوقے دغه کسان دوی لره عذاب ذلیل کوؤنکے دے (٦) اوکوم وخت چه اولوستلے شی په دهٔ باندے ایاتونه زمونږ اوگرځی لوئے کوؤنکے گویا کے دهٔ نه دی

تفسیر

[۱] دا دَ مقطعاتونه دے دَپاره دَ اظهار دَ اعجاز دَ قرآن۔

[۲،۳،٤] په دے ایاتونو کښ ترغیب دے قرآن ته په ذکرڈخلورو صفتونودَقرآن چه کتاب، حکیم، هدی، رحمت دے اوڅلور صفتونه دَقرآن والودی اودغه صفتونه آثاردی دَصدق دَقرآن ﴿لِلْمُحْسِنِيْنَ﴾ هغه چاته وائی چه دَهغوی عقیده اوعمل مشتمل وی په حسن شرعی سره یعنی توحید اواخلاص اواتباع دَسنّت پکښ موجود وی ﴿يُوْقِنُوْنَ﴾ تفسیرسراج المنیرکښ وئیلی دی چه دا هغه کسان دی چه نه کوی داسے کار چه منافی وی دَ ایمان سره اونه غافل کیږی دَ آخرت دَیاداشت نه رپ دَ سترګے په قدرت هم۔

[٥] دا بشارت دے په سبب دَ دغه څلورو صفتونو سره۔

[٦] په دے ایت کښ زجراوتخویف دے مخالفینودَ قرآن ته اودَ هغوی درے حالات ذکردی اواشتراء دَ لهوالحدیث۔ مراد دَ اشتراء نه خوخوَل اوغوره کول دی اواشتراء ئے ذکرکړه اشاره ده چه په دے باندے خپل مال هم قربانوی ﴿لَهْوَ الْحَدِيْثِ﴾ اوحسن بصری نه روایت دے چه مراد دَ دے نه هرهغه شے دے چه غافل کوی انسان لره دَقرآن کریم نه اودَبندکئے دَ اللّٰه تعالیٰ نه نوداخل دی په دے کښ، دَشرکیاتواوبدعاتو قصّے اودَ فسق اوفجورکپ شپ اوهغه عملونه دنیوی چه انسان لره دَ قرآن نه غافل کړی اوداخل ده په دے کښ غِناء مراد دَغنانه غزلے اولوبے وئیل دی که دَهرے ژبے وی اواسباب دَ ډمتوب اوتی وی وغیره ﴿بِغَيْرِ عِلْمٍ﴾ کښ اشاره ده چه هرضال مضل جاهل دے ﴿هُزُوًا﴾ دَ دے نه مراد دا دے چه سپك اوبے مقصده گنړی قرآن لره اودا سبب اوگرځی دَپاره دَ مسخروکولونودَدے وجے نه هُزُواً ټوقوته هم وائی۔

يَسْمَعْهَا كَاَنَّ فِيْٓ اُذُنَيْهِ وَقْرًا ۚ فَبَشِّرْهُ بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ ۝٧ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَهُمْ
جَنّٰتُ النَّعِيْمِ ۝٨ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ وَعْدَ اللّٰهِ حَقًّا ؕ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝٩ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ بِغَيْرِ عَمَدٍ
تَرَوْنَهَا وَاَلْقٰى فِي الْاَرْضِ رَوَاسِيَ اَنْ تَمِيْدَ بِكُمْ وَبَثَّ فِيْهَا مِنْ كُلِّ دَآبَّةٍ ؕ وَاَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَآءِ
مَآءً فَاَنْۢبَتْنَا فِيْهَا مِنْ كُلِّ زَوْجٍ كَرِيْمٍ ۝١٠ هٰذَا خَلْقُ اللّٰهِ فَاَرُوْنِيْ مَاذَا خَلَقَ الَّذِيْنَ مِنْ دُوْنِهٖ ؕ بَلِ
الظّٰلِمُوْنَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ۝١١ ع وَلَقَدْ اٰتَيْنَا لُقْمٰنَ الْحِكْمَةَ اَنِ اشْكُرْ لِلّٰهِ ؕ وَمَنْ يَّشْكُرْ فَاِنَّمَا يَشْكُرُ
لِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ كَفَرَ فَاِنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ حَمِيْدٌ ۝١٢ وَاِذْ قَالَ لُقْمٰنُ لِابْنِهٖ وَهُوَ يَعِظُهٗ يٰبُنَيَّ لَا تُشْرِكْ بِاللّٰهِ ؕ

اوریدلی (دا ایتونه) ګویا کے په غوږونو دَ دهٔ کښ دروندوالے دے نوزیږے ورکړه دهٔ لره په عذاب درد ناك سره (۷) یقیناً هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے اوعملونه ئے کړی دی موافق دَ سنت سره دوی لره جنتونه دَ نعمتونو دی (۸) همیشه به وی دوی په هغے کښ وعده کړے ده الله تعالیٰ یقینی ده او خاص الله تعالیٰ زورآور او حکمتونو والادے (۹) پیدا کړیدی اسمانونه بغیر دَ ستنونه وینئ تاسو هغه او اچولی دی په زمکه کښ پاخه غرونه دے دپاره چه اونه خوځیدی په تاسو باندے او خواره کړیدی په دے کښ هر قسم زنده سراو راورولی دی مونږ دَ طرف دَ اسمان نه اوبه نوزرغون کړی دی مونږ په هغے کښ دَ هر قسم بوټی فائدو والا نه (۱۰) دا پیدائش دَ الله تعالیٰ دے نو اوخائیے ماته چه څه دی هغه چه پیدا کړیدی هغه کسانو چه سیوا دَ الله تعالیٰ نه دی بلکه ظالمان په ګمراهئ ښکاره کښ دی (۱۱) او یقیناً ورکړے وؤ مونږ لقمان ته پوخ علم (ورته مے وئیلی وؤ) چه شکر کوه دَ الله تعالیٰ او چاچه شکر اوکړو نو یقیناً شکر کوی خپلے فائدے لره او چاچه ناشکری اوکړه نو یقیناً الله تعالیٰ بے حاجته ستائیلے شویدے (۱۲) او کوم وخت چه اُوئیل لقمان خپل څوئي ته او وعظ ئے ورته کؤو اے زما ځویه شرك مه کوه دَ الله تعالیٰ سره

[۷] په دے کښ نوردرے قبائح دَ منکرینودَ قرآن ذکرکوی سرهٔ دَ تخویف نه اوپه دیکښ ترقی دَ انکارده یعنی پخپله خو دے دَقرآن نه غافل دے لیکن که څوك دهٔ لره دَ غفلت نه بیدار وی په بیان دَ قرآن سره نو بنهٔ لوئي کوی۔ حاصل دا چه دَ قرآن دَ پوهیدلو کوشش نه کوی اوبل نه ئے هم نه آوری۔

[۹،۸] په دے ایاتونو کښ بشارت ذکرکوی دپاره دَ اول جماعت۔

[۱۰] دا اول دلیل عقلی دے دَپاره دَ توحید اوپه دیکښ شپږ نعمتونه عظیمه ئے ذکرکړیدی چه هغه دلالت کوی چه الله تعالیٰ العزیز الحکیم دے ﴿زَوْجٍ﴾ قسمونه دَ بوټواواونونه، اوهرکله چه اکثربوټی دَیوبل سره مشابهت لری دَ دے وجے نه زوج ئے اُوئیل ﴿كَرِيْمٍ﴾ کرامت دَ هغے فائدے دی د خوراك پوشاك وغیره۔

[۱۱] دا تفریع ده په مخکښ دلیل باندے او رد دے په مشرکانو باندے یعنی چه ستاسو معبودان خلق(پیدائش) نشی کولے نو څه رنګه حقدار دَ عبادت ئے ګنړئے۔

[۱۲] دا دلیل نقلی دے په توحید باندے اواشاره ده چه عقیده اوطریقه دَ دے مشرکانو لکه چه انبیاؤ دَ طریقے نه خلاف ده نو دارنګ دَ حکماؤ دَ طریقے نه هم خلاف ده ۔ دارنګ حکمت مقابل دَ ظلم دے

إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ ﴿١٣﴾ وَوَصَّيْنَا الْإِنسَانَ بِوَالِدَيْهِ ۖ حَمَلَتْهُ أُمُّهُ وَهْنًا عَلَىٰ وَهْنٍ وَفِصَالُهُ
فِي عَامَيْنِ أَنِ اشْكُرْ لِي وَلِوَالِدَيْكَ ۖ إِلَيَّ الْمَصِيرُ ﴿١٤﴾ وَإِن جَاهَدَاكَ عَلَىٰ أَن تُشْرِكَ بِي مَا لَيْسَ لَكَ

یقیناً شرك لوئے ظلم دے (۱۳) او پوخ حکم ورکړومونږ انسان ته دَ مور او پلار سره (دَ احسان کولو) پورته کړے ووُ دهٔ لره مور دَ دهٔ په کمزوری حال په بل کمزوری حال باندے اوجدا کول ئے دَ پیو ورکولونه په دوه کاله کښ دی (حکم دا دے) چه شکر کوه زما او دَمور او پلار ستا خاص ماته ستاسو راګرځیدل دی (۱٤) او که دوی زورکوی په تا باندے چه شریك جوړ کړے ماسره هغه څوك چه نیشته تا لره

ځکه چه ظلم استعمال دَ شے دے په بے مناسبه ځائے کښ او حکمت استعمال دے په مناسب ځائے کښ نودَ دے وجے نه دَ ظالمانودَ رد نه بعد دَ حکمت امور ذکر کوی۔

لقمان بن باعورا: دَ دهٔ په باره کښ اختلاف دے چه پیغمبر وؤاوکه ولی وؤصحیح داده چه ولی اللّٰه وؤ اودَعکرمه نه په کوم روایت کښ چه نقل ده چه دے نبی وؤنودَ هغے په سند کښ جابرجعفی ضعیف راوی دے اکثرمفسرینو لیکلی دی۔ چه دے غلام حبشی نجّار (ترکان) وؤ۔ اولقمان دَ ایوب علیہ السلام خوریئے وویا دَ تروروڅوئیے وؤاودَ داؤد علیہ السلام نه ئے بعض علمونه حاصل کړی وواودپیرحکمتونه اللّٰه تعالیٰ دهٔ ته په طریقه دَ الهام سرهٔ خودلی وؤ ﴿الْحِكْمَةَ﴾ هغه علم دے چه پوخ وی په عمل سره اوهرشے په خپل مناسب ځائے کښ استعمالول اودَ څیزونوپه فائدوباندے پوهه لرل داحکمت دے ﴿أَنِ اشْكُرْ لِلَّهِ﴾ سره یعنی احسانات دَ اللّٰه تعالیٰ منل اودَ هغه په رضا سرهٔ استعمالول دالوے حکمت دے اوعلم بیانول اودعوت کول دا شکردَ علم دے اوروستو اياتونو کښ دَحکمت اودَ شکر ئے تفصیل کړے دے۔

[۱۳] دا اول قسم شکر دے یعنی عالم دِ دَ شرك تردید اوکړی او اول دَ خپلوانواصلاح دِ اوکړی اوخصوصاً دَ خپل اولاد اصلاح کول په عقیدهٔ صحیحه سره دالوے حکمت دے۔ که ځوئے دَ ده مشرك وؤنوداوعظ دے هغهٔ ته دَپاره دَپریخودلودَشرك اوکه مشرك نه وؤ نووعظ دے دَپاره دَتاکید اوتثبیت په عقیده دَ توحید باندے ﴿إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ﴾ دا دَ دے وَجے نه چه ظلم خواستعمال دَ شے دے بے ځایه نوپه شرك کښ دَ انعاماتودَ اللّٰه تعالیٰ نسبت وی بل چاته لکه په شرك فی التصرف کښ اوعبادت اوحقوق دَاللّٰه تعالیٰ اداکول دی بے ځایه لکه په شرك فی العبادة والدعاء کښ۔ اوصفتونه دَ اللّٰه تعالیٰ بل لره ثابتول اویا دَهغهٔ صفتونه دَمخلوق سره مشابه کول یا دَهغهٔ دَ اسماؤ صفاتونه انکارکول داشرك فی الاسماء والصفات دے دا رنګ دَ اللّٰه تعالیٰ علم خاص(یعنی علم غیب) بل چاله ثابتول لکه په شرك فی العلم کښ۔ دَ دے وجے نه شرك لوے ظلم دے۔

[۱٤] هرکله چه ذکرشوچه اصلاح دَپلار ځوئي لره دا حکمت دے نوذکرکوی چه دارنګ احسان اوخدمت اوعزت کول دَ اولاد خپل موراوپلار لره داهم حکمت دے ﴿حَمَلَتْهُ﴾ دا ذکرسبب دَ وصیت دے یعنی دَ مورحق زیات دے دَ وجے دَ ډیرمحنت اومشقت دَ هغے نه ﴿وَهْنًا عَلَىٰ وَهْنٍ﴾ اشاره ده ډیرضعف دَ هغے اومشقت دَ هغے ته۔ تکلیف دَحمل اوتکلیف دَ وضع دَحمل ﴿وَفِصَالُهُ﴾ په دے کښ اشاره ده تکلیف دَتربیت اوپئے ورکول بچی ته اوتکلیف دَپیؤنه پریکول ﴿فِي عَامَيْنِ﴾ لکه چه سورة بقره (۲۳۳) کښ ذکر

بِهٖ عِلْمٌ ۙ فَلَا تُطِعْهُمَا وَ صَاحِبْهُمَا فِی الدُّنْیَا مَعْرُوْفًا ۪ وَّ اتَّبِعْ سَبِیْلَ مَنْ اَنَابَ اِلَیَّ ۚ ثُمَّ اِلَیَّ مَرْجِعُكُمْ فَاُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۵﴾ یٰبُنَیَّ اِنَّهَاۤ اِنْ تَكُ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ فَتَكُنْ فِیْ صَخْرَةٍ اَوْ فِی السَّمٰوٰتِ اَوْ فِی الْاَرْضِ یَاْتِ بِهَا اللّٰهُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَطِیْفٌ خَبِیْرٌ ﴿۱۶﴾ یٰبُنَیَّ اَقِمِ الصَّلٰوةَ وَ اْمُرْ بِالْمَعْرُوْفِ وَ انْهَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَ اصْبِرْ عَلٰی مَاۤ اَصَابَكَ ؕ اِنَّ ذٰلِكَ مِنْ عَزْمِ الْاُمُوْرِ ﴿۱۷﴾ وَ لَا تُصَعِّرْ

په هغه باندے دلیل نو دَ دوی خبره اونه منے او ملګرتیا دَ دوی کوه دَ دُنیا په کار کښ نیکه ملګرتیا او روان ئیے په لار دَ هغه چاچه راګرځی ماته بیا ما طرف ته ستاسو راګرځیدل دی نو خبر به درکړم په هغه عملونو چه تاسو ئیے کوئے (۱۵) اے زما ځویه یقیناً خصلت (دَنیکئے یا بدئے) که چرے وی په قدر دَ دانے دَ اوری نوکه وی پټ په ګټه کښ یا وی (په بل ځائے) دَ اسمانونو کښ یا په زمکه کښ راوړی به هغے لره اللّٰه تعالیٰ یقیناً اللّٰه تعالیٰ وینی باریك ځیزونه خبردار دے (۱۶) اے زما ځویه پا بندی کوه دَ مونځ اوحکم کوه دَنیکئے او منع کوه دَ بدئے نه او صبر کوه په هغه مصیبتونو باندے چه تاته درسیږی یقیناً دا دَ ضروری کارونونه دی (۱۷) اومه کړه وه

دی او اشاره ده چه دَ پیؤ ورکولومدت دوه کاله دے اوداصریح اوصحیح قول دے۔

[۱۵] دا قباحت دَ شرك دے روستودَ بیان دَ حقوق دَ والدینونه یعنی اګرچه دَ والدینو حق فرض دے لیکن دَشرك په مقام کښ دَ هغوی دَ اطاعت حق ساقط دے اوحدیث کښ عام راغلی دی چه لاطاعة لمخلوق فی معصیة الخالق یعنی په هیڅ ګناه کښ دَ هیڅ مخلوق طاعت نشی کیدلے ﴿وَاِنْ جَاهَدٰكَ﴾ کښ اشاره ده ډیرتاکیدته یعنی که دواړه موراوپلارمتفق وی په دعوت دَشرك باندے اوصرف امرنه کوی بلکه کوشش کوی او زورلګوی لیکن بیاهم دَهغوی طاعت کول حرام دی ﴿فِی الدُّنْیَا﴾ یعنی امورد دنیاکښ دَ دوی تعاون کول پکاردی په دے شرط چه معروف وی یعنی دَ شرع نه خلاف نه وی اومصاحبت په معروف سره دا دے چه نیك اخلاق اونرمی ورسره ضروری ده اوپه دے کښ دعوت الی الحق هم داخل دے۔ ﴿مَنْ اَنَابَ اِلَیَّ﴾ مرادترینه مخلص مؤحد اومتبع دَسنّت دے۔

فائده: خطیب شربینی وئیلی دی چه په دے کښ تنبیه ده قریشومشرکانوته په غلطئ دَ هغوی باندے په تقلید د اباؤ کښ اوپریخودل دَهغوی اتباع دَ نبی ﷺ لره۔ اوبله فائده ئیے دا ذکرکړے ده چه په دے کښ تیزی ورکول دی په پیژندلودَ رجالوپه حق سره او(امر بحك المشائخ وغیرهم علی محك الکتاب والسنة فمن کان عمله موافقا لهما اتبع ومن کان عمله مخالفالهما اجتنب) ترجمه: حکم دے په معلومولودَ علماؤ وغیره په کسوټے دَکتاب اللّٰه اوسنت سره پس دَچا عمل چه دَ دے دواړوسره موافق وی تابعداری به ئیے کیدے شی اودَ چا عمل چه دَ دے دواړونه مخالف وی نو ډه به ترینه کیدیشی۔

[۱۶] په دے ایت کښ دفع دَ وهم ده که څوك خیال اوکړی چه که چرے مونږ ګناه دَ شرك یا دَ مور اوپلار ناشکری یا دَ هغوی طاعت په شرك کښ (داګناهونه) پټ اوکړونو چاته به دَ هغے علم وی؟ نوحاصل دَ جواب دا دے چه هیڅ ځیز اوهیڅ ګناه دَ اللّٰه تعالیٰ نه پټ کیدے نشی۔

[۱۷] روستودَ بیان دَعقیدے (یعنی دَ رد دَ شرك نه) بیان دَ اعمالواواخلاقو دے، په دے ایت کښ

خَدَّكَ لِلنَّاسِ وَلَا تَمْشِ فِي الْأَرْضِ مَرَحًا ۖ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ ﴿١٨﴾ وَاقْصِدْ
فِي مَشْيِكَ وَاغْضُضْ مِن صَوْتِكَ ۚ إِنَّ أَنكَرَ الْأَصْوَاتِ لَصَوْتُ الْحَمِيرِ ﴿١٩﴾ أَلَمْ تَرَوْا أَنَّ اللَّهَ
سَخَّرَ لَكُم مَّا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ وَأَسْبَغَ عَلَيْكُمْ نِعَمَهُ ظَاهِرَةً وَبَاطِنَةً ۗ وَ

اننګے خپل (په وخت دَ خبرو) دَ خلقو سره اومه ګرځه په زمکه کښ په لوئے او ناز سره یقیناً اللّٰه تعالیٰ نه خوخوی هر لوئی کوؤنکے خپله ستائنه کوؤنکے (۱۸) او میانه روی کوه په رفتار خپل کښ او ښکته کړه بعض اواز خپل یقیناً ډیر ناکاره دَ اوازونونه خامخا اواز دَ خر دے (۱۹) ایا نه ګورئے تاسو چه یقیناً اللّٰه تعالیٰ په خدمت ستاسو کښ لګولی دی هغه څه چه په اسمانونو کښ دی او هغه څه چه په زمکه کښ دی او پوره کړی دی په تاسو باندے نعمتونه خپل ښکاره او پټ او

څلورا عمال ذکر کوی ﴿عَزْمِ الْأُمُورِ﴾ عزم په معنیٰ دَمعزوم دے یعنی هغه کارونه چه فرض کړے شوے وی دَطرف دَ اللّٰه تعالیٰ نه اودَ هغے ادا کوؤنکوته اولوالعزم وئیلے کیږی۔

[۱۸] روستودَ بیان دَ اعمالونه او اوامرونه ذکرد اخلاقو منهیودے چه په هغے سره نفرت دَ خلقو پیدا کیږی۔اودا اخلاق (منهیه) دَ متکبرینودی ﴿وَلَا تُصَعِّرْ﴾ صعر په اصل کښ یومرض دے چه په اوښانوباندے راځی اوپه هغے سره څټ کوږشی اومخ ئے واوړی۔ نوپه دے کښ اشاره ده تذلیل دَ داسے انسان ته چه په دے خوئی سره دَ مرضی اوښ پشان شی اومراد ترینه دا دے چه ته چاسره خبرے کوے یا تاسره څوك خبرے کوی نوته مخ برابرکړه لکه چه داسنت دَنبی ﷺ دی ﴿وَلَا تَمْشِ فِي الْأَرْضِ مَرَحًا﴾ داسے سورۃ اسراء (۳۷) کښ تیرشویدی هرهغهٔ تلل اوګرځیدل چه دَ سنت دَ نبی ﷺ نه خلاف وی هغه په دے نهی کښ داخل دی که رقص (ګډا) وی یاپه ناز ونزاکت سره ګرځیدل وی ﴿مُخْتَالٍ﴾ هغهٔ دے چه نورخلق سپك ګڼړی دَخپل ځان په مقابله کښ اوفَخُورٍ هغه دے چه خپل صفتونه پخپله کوی دَپاره دَ ځان لوے ګڼړلوپه نورخلقوباندے۔

[۱۹] تیرشوی ایت کښ منع وه دَ هغه کارونونه چه دلالت کوی په ناکاره صفاتو باطنیو باندے چه هغه تکبردے نوپه دے ایت کښ ذکردَصفاتوظاهریودے ، اول صفت اقتصاد دَ مشی، میانه روی کول یعنی چه ډیرتیزنه ځی اوډیرپه دمه باندے هم نه ځی اوډیرنیغ نه ګرځی اوکوزهم نه ګرځی اوهرکله چه انسان په رفتارکښ دَ سنّت دَ نبی ﷺ تابعداری کوی نومعلومه شوه چه په هرکارکښ دَسنّت تابع دے۔ دویم صفت اوازښکته کول ﴿مِنْ صَوْتِكَ﴾ لفظ دَ من دلیل دے چه کله اواز اوچتول ثواب دے لکه آذان اوتلبیه ﴿إِنَّ أَنكَرَ الْأَصْوَاتِ﴾ اشاره ده چه په دے کارکښ نوروخلقوته تکلیف ورکول دی ﴿لَصَوْتُ الْحَمِيرِ﴾ دَ دے تخصیص وجه داده چه نورحیوانات اوازدَ ضرورت په وخت کښ اوچتوی چه بوج پرے راشی یا ستړی شی، اوخربغیردَ ضرورت نه اواز را اوباسی اوکله چه بوج پرے دروند شی یا نورتکلیف وی نوبیا اوازنه را اوباسی۔ اودا دلیل دے چه څوك ذکردَ اللّٰه تعالیٰ په اوچت اواز سره کوی په غیردَ شرعی دلیل نه نوهغه مشابه دے دَ خرسره۔

مِنَ النَّاسِ مَنْ يُّجَادِلُ فِي اللّٰهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَّلَا هُدًى وَّلَا كِتٰبٍ مُّنِيْرٍ ﴿۲۰﴾ وَاِذَا قِيْلَ لَهُمُ اتَّبِعُوْا
مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ قَالُوْا بَلْ نَتَّبِعُ مَا وَجَدْنَا عَلَيْهِ اٰبَآءَنَا ؕ اَوَلَوْ كَانَ الشَّيْطٰنُ يَدْعُوْهُمْ اِلٰى عَذَابِ
السَّعِيْرِ ﴿۲۱﴾ وَمَنْ يُّسْلِمْ وَجْهَهٗٓ اِلَى اللّٰهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقٰى ؕ وَاِلَى
اللّٰهِ عَاقِبَةُ الْاُمُوْرِ ﴿۲۲﴾ وَمَنْ كَفَرَ فَلَا يَحْزُنْكَ كُفْرُهٗ ؕ اِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ فَنُنَبِّئُهُمْ بِمَا عَمِلُوْا ؕ اِنَّ

بعض دَ خلقونه هغه دی چه جګړے کوی په توحید دَ اللّٰه تعالیٰ کښ بغیر دَ دلیل نه او دَ هدایت نه او دَ کتاب رنړا کوؤنکی نه (۲۰) اوکوم وخت چه اوئیلے شی دوی ته تابع شئے دَ هغه چه نازل کړے دے اللّٰه تعالیٰ دوی وائی بلکه مونږ تابعداری کوؤ دَ هغه طریقے چه موندلی دی مونږ په هغے باندے مشران خپل ایا اګر چه وؤ شیطان بلل ئیے هغوی عذاب دَ اور لمبو والا ته (۲۱) او چاچه تابع کړو خپل مخ اللّٰه تعالیٰ ته او دے وؤ اخلاص کوؤنکے نو یقیناً کلکه اونیوله دهٔ کړئے مضبوطه او خاص اللّٰه تعالیٰ ته اخری انجام دَ ټولو کارونو دے (۲۲) او چاچه کفر اوکړو نو خفه دِنه کړی تالره کفر دَ هغه خاص مونږ ته واپسی دَ دوی ده نو خبر به ورکړو دوی ته په هغه عملونو چه دوی کړی دی یقیناً

[۲۰] دَ دے نه ترآخره پورے دویم باب دے په دے کښ باقی اته عقلی دلیلونه دی (۲۰، ۲۵، ۲۶، ۲۷، ۲۸، ۲۹، ۳۱، ۳۴) کښ اوزجرونه دی (۲۰، ۲۱، ۳۲) کښ او بشارت (۲۲) کښ او تخویف اُخروی (۳۳) او رد دَ شرك فی الدعاء دے په (۳۰) کښ۔ په دے (۲۰) کښ دویم دلیل عقلی دے یعنی دا ټول څیزونه ستاسودَ فائدے دپاره اللّٰه تعالیٰ لګولی دی اودغه فائدے داسے حکمتونه دی چه لقمان حکیم په هغے باندے پوهیدلوچه دا دَ اللّٰه تعالیٰ دَطرف نه دی ﴿ظَاهِرَةً﴾ مرادترینه هغه دی چه عام خلق هغه پیژنی لکه ظاهری بدن اومال واولاد اوشکل وصورت وغیره ﴿وَبَاطِنَةً﴾ هغه مراد دی چه اهلِ علم په هغے باندے پوهه دی۔ لکه اسلام، قرآن محبّت دَ اللّٰه تعالیٰ اودَ رسول اوزړه، عقل فهم وغیره ﴿وَمِنَ النَّاسِ﴾ زجرديے روستودَ دلیل نه اوپه دے کښ عنادیان منکرین مراد دی چه حق ورته ښکاره شوے دے اوبیا هم جګړے کوی۔

[۲۱] دابل زجردے یعنی دلیلونه ورسره نیشته لیکن تقلید دَپلارانوورسره شته اودائے دَ بِغَيْرِ عِلْمٍ په مقابله کښ ذکرکړے دے معلومه شوه چه تقلید څه علم نه دے ﴿اٰبَآءَنَا﴾ مراد ترینه مشران علماء دی صرف نسبی پلاران ترینه مرادنه دی اوداسے ایت په سورة بقره (۱۷۰) مائده (۱۰۴) زخرف (۲۲، ۲۳) کښ هم تیرشوی دی۔

[۲۲] هرکله چه ذکرشو حال دَ مشرك اودَکمزوری دلیل دَ هغهٔ نوپه دے ایت کښ ذکرکوی حال دَ مؤحد اودَ پوخ والی دَ دلیل دَهغهٔ ﴿وَمَنْ يُّسْلِمْ وَجْهَهٗٓ﴾ مراد دَ دے نه تابعداری په ظاهرسره ده دَ اللّٰه تعالیٰ دَ ټولوحکمونو ﴿وَهُوَ مُحْسِنٌ﴾ مراد دینه اخلاص دَ باطن دے یا مراد دَ اول نه اسلام اوتوحید دے اومراد دَ احسان نه تابعداری دَ سنت ده ﴿بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقٰى﴾ دا په طریقه دَ تشبیه سره دے څه رنګ چه یوانسان دَطوفان اوسیلاب نه په دے طریقه سره بچ کیږی (چه کړئ وی اومضبوطه وی) اودے هم ورپورے کلك اونخلی نودارنګ دَ اللّٰه تعالیٰ دَ عذاب نه بچ کیدل اودَتمام فتنواوګمراهونه بچ کیدل په داسے طریقے سره کیږی چه انسان هغه توحید اوقرآن چه مضبوط دے په سنّت اوحدیث سره، په هغے باندے پوره عمل

اللّٰهَ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿٢٣﴾ نُمَتِّعُهُمْ قَلِيْلًا ثُمَّ نَضْطَرُّهُمْ اِلٰى عَذَابٍ غَلِيْظٍ ﴿٢٤﴾ وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ
خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ ؕ قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ ؕ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٢٥﴾ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ
وَالْاَرْضِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيْدُ ﴿٢٦﴾ وَلَوْ اَنَّ مَا فِي الْاَرْضِ مِنْ شَجَرَةٍ اَقْلَامٌ وَّالْبَحْرُ يَمُدُّهٗ مِنْ
بَعْدِهٖ سَبْعَةُ اَبْحُرٍ مَّا نَفِدَتْ كَلِمٰتُ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿٢٧﴾ مَا خَلْقُكُمْ وَلَا بَعْثُكُمْ اِلَّا

اللّٰه تعالٰی پوهه دے په هغه خبرو چه په سینو کښ دی (۲۳) مزے ورکوو مونږ دوی ته لکه موده بیا به مجبوراً اولیکو دوی لره عذاب سخت ته (۲٤) او که چرے تپوس اوکړے ته دَ دوی نه چه چا پیدا کړیدی اسمانونه او زمکه ضرور دوی وائی چه اللّٰه تعالٰی ته اُوایه ستائنه دَ خدائیتوب دَ اللّٰه تعالٰی ده بلکه اکثر دَ دوی نه، نه پوهیږی (۲۵) خاص دَ اللّٰه تعالٰی په اختیار کښ دی هغه څه چه په اسمانونو کښ اوزمکه کښ دی یقیناً اللّٰه تعالٰی خاص هغه بے حاجته ستائیلے شویدے (۲٦) اوکه چرے شی هغه څه چه په زمکه کښ دی اونے قلمونه او داسمندر زیات کړی دهٗ لره روستو دَ ختم کیدلونه اووه سمندرے نو خلاصے به نشی کلمے دَ اللّٰه تعالٰی یقیناً اللّٰه تعالٰی زورآور حکمت والا دے (۲۷) نه دے پیدائش ستاسو اونه دوباره ژوند ستاسو مګر

اوکړی اوپه هغے باندے دلیل اونیسی۔

[۲٤،۲۳] روستودَبیان دَحال دَ فریقینونه تسلّی ده رسول اللّٰهﷺ ته اوتخویف دے منکرینوته۔ ﴿فَلَا يَحْزُنْكَ﴾ مراد دَحزن نه دَنه منلودَ وجے نه دومره خفګان کول چه دعوت پریږدی دامنع دے اونفس حزن خوغیراختیاری دے دَهغے نه نهی نشی کیدلے۔

[۲۵] دابل دلیل عقلی اعترافی دے اوسبب دَ عذاب غلیظ دے چه سره دَ اقرارنه په خالقیت دَ اللّٰه تعالٰی سره بیاهم دوی شرك کوی ﴿اَكْثَرُهُمْ﴾ دَ دے نه هغه خلق مراد دی چه سره دَ دے اقرارنه شرك اوکفرکوی اوهغه خلق پیږدی۔

[۲٦] دابل دلیل عقلی دے۔ مخکښ ایت کښ ذکردَخالقیت دَاللّٰه تعالٰی دے نوپه دے ایت کښ ذکر دَ تصرف اودَتدبیردَ هغهٗ دے۔

[۲۷] دابل دلیل عقلی دے۔ هرکله چه مخکښ اوفرمائیل چه مافی السمٰوٰت والارض دَ اللّٰه تعالٰی دی نووهم پیدا شوچه دا خومحدود څیزونه دی نو ایا دَ اللّٰه تعالٰی کلمات به هم محدود وی نوپه دے ایت کښ دَ دے وهم جواب کوی حاصل داچه کلمات دَ اللّٰه تعالٰی بے انتهادی داسے سورة کهف (۱۰۹) کښ تیرشوی دی لیکن په دے ایت کښ پیرتاکید دے وجه داده چه د لته دَ لقمان حکمت ذکرشونواشاره شوه چه حکمتونه دَحکیمانودَ اللّٰه تعالٰی دَکلماتواحاطه نشی کولے ﴿سَبْعَةُ﴾ دَ دے نه مراد پیروالے دے اومراد دَ کلماتونه عام دے وحی دَ اللّٰه تعالٰی ملائکوته اوانبیاؤته اوعلمونه دَ هغهٗ اوصفتونه دَ هغهٗ (ځکه چه نبیﷺ فرمائیلی دی لاأحصی ثناء علیك انت کما اثنیت علی نفسك) اوعجائبات اوحکمتونه دَهغهٗ، دے ټولوته شامل دے۔

كَنَفْسٍ وَّاحِدَةٍ ؕ اِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌۢ بَصِيْرٌ ﴿۲۸﴾ اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ يُوْلِجُ الَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُوْلِجُ النَّهَارَ فِي الَّيْلِ
وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ۙ كُلٌّ يَّجْرِيْۤ اِلٰۤى اَجَلٍ مُّسَمًّى وَّاَنَّ اللّٰهَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ﴿۲۹﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ
هُوَ الْحَقُّ وَاَنَّ مَا يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهِ الْبَاطِلُ ۙ وَاَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْعَلِيُّ الْكَبِيْرُ ﴿۳۰﴾ اَلَمْ تَرَ اَنَّ الْفُلْكَ ع ۳۰
تَجْرِيْ فِي الْبَحْرِ بِنِعْمَتِ اللّٰهِ لِيُرِيَكُمْ مِّنْ اٰيٰتِهٖ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُوْرٍ ﴿۳۱﴾ وَاِذَا
غَشِيَهُمْ مَّوْجٌ كَالظُّلَلِ دَعَوُا اللّٰهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ۚ فَلَمَّا نَجّٰىهُمْ اِلَى الْبَرِّ فَمِنْهُمْ مُّقْتَصِدٌ ؕ

پشان دَ یوتن دے یقیناً اللّٰه تعالیٰ هرڅه اوری هرڅه وینی (۲۸) ایا ته نه ګورے چه یقیناً اللّٰه تعالیٰ ورننه باسی شپه په ورځ کښی او ورننه باسی ورځ په شپه کښی اوپه خدمت کښی لګولی دی نمر او سپوږمئ دا ټول چلیږی تر نیټے مقررے پورے او یقیناً اللّٰه تعالیٰ ستاسو په عملونو باندے خبر دار دے (۲۹) دا بیان دے دپاره دَ دے چه یقین اوکړئے چه اللّٰه تعالیٰ حق دے او یقیناً هغه کسان چه دوی ئیے بلی سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه باطل (بندګی دَهغوی) او یقیناً اللّٰه تعالیٰ پورته دے لوئے ذات دے (۳۰) ایا ته نه ګورے چه کشتئ چلیږی په سمندر کښی په نعمت دَ اللّٰه تعالیٰ سره دے دپاره چه اوخائی تاسوته دلیلونه خپل یقیناً په دے کښی ډیر دلیلونه دَ توحید دی هر ډیر صبرناك ډیر شکر ګذار لره (۳۱) او هر کله چه راګیرکړی دوی لره چپے پشان دَغټو وریځو بلی دوی اللّٰه تعالیٰ لره نو خالص کوی هغه لره بلنه نو هرکله چه بچ کړی دوی لره اوچے ته نو بعض دَ دوی نه حق پرست وی

[۲۸] دا هم دلیل عقلی دے دَ اثبات دَ عظیم قدرت دَ هغهٔ روستو دَ ذکر دَ محیط دَ علم دَ هغهٔ نه۔

[۲۹] دا بل دلیل عقلی دے په ذکردَ تصرف دَ اللّٰه تعالیٰ په زمانه کښی اوپه اسبابو دَ شپه او ورځ کښی۔

[۳۰] دا نتیجه ده دَ تیرشوؤ دلیلونو ﴿الْبَاطِلُ﴾ په معنیٰ دَ فانی دے یا دعا دَ هغوی نه ۔ او عبادت کول دَ هغوی باطل دی ﴿الْعَلِيُّ﴾ صریح دے په علوّ (اوچت والی) دَ اللّٰه تعالیٰ کښی۔

[۳۱] داهم دلیل عقلی ارضی (دَ زمکے) دے روستودَ دلیل وسطی نه ﴿بِنِعْمَةِ اللّٰهِ﴾ مراد دَ دے نه تعلیم دَ اللّٰه تعالیٰ دے بندګانوته طریقه دَ جوړولودَ کشتئے اودَ چلولودَ هغے اودَ پیدائش دَ اجزاؤدَ هغے چه لرګی اواوسپنه ده۔ یا مراد دَ دینه معتدله هوا ده چه بغیردَهغے نه کشتئے نشی چلیدلے ﴿صَبَّارٍ شَكُوْرٍ﴾ دَسفرپه مشکلاتو باندے دَصبرکولونه بغیردا ایات(دلیلونه)نه معلومیږی اودارنګ ځوك دَ دے نعمتونو او قدر تونو نسبت اللّٰه تعالیٰ له نه منی نوهغهٔ ته هم ایات دَتوحیدنه معلومیږی دَ دے وجے نه ئے دا دواړه صفتونه ذکرکړل اوپه مبالغے سره ئیے دَ دے وجے نه ذکرکړل چه په بعض مشکلاتوکښی صبرکول اوبعض نعمتونودَ اللّٰه تعالیٰ باندے شکرخودَ کافرانواومشرکانوهم عادت دے خوپه هرمشکل کښی صبرکول اودَ هرنعمت دَ اللّٰه تعالیٰ شکراداکول دا دَ مؤمن صفت دے۔

وَمَا يَجْحَدُ بِاٰيٰتِنَآ اِلَّا كُلُّ خَتَّارٍ كَفُوْرٍ ﴿٣٢﴾ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوْا رَبَّكُمْ وَاخْشَوْا يَوْمًا لَّا يَجْزِيْ
وَالِدٌ عَنْ وَّلَدِهٖ ۫ وَلَا مَوْلُوْدٌ هُوَ جَازٍ عَنْ وَّالِدِهٖ شَيْـًٔا ۭ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ الْحَيٰوةُ
الدُّنْيَا ۪ وَلَا يَغُرَّنَّكُمْ بِاللّٰهِ الْغَرُوْرُ ﴿٣٣﴾ اِنَّ اللّٰهَ عِنْدَهٗ عِلْمُ السَّاعَةِ ۚ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ ۚ
وَيَعْلَمُ مَا فِي الْاَرْحَامِ ۭ وَمَا تَدْرِيْ نَفْسٌ مَّاذَا تَكْسِبُ غَدًا ۭ وَمَا تَدْرِيْ نَفْسٌۢ بِاَيِّ اَرْضٍ
تَمُوْتُ ۭ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌ خَبِيْرٌ ﴿٣٤﴾

او انکار نه کوی دَ ایاتونو زمونږ نه مګر هر بے لوظه نا شکره (۳۲) اے خلقو اویریګئ دَ رب خپل نه اویره کوئ دَهغه ورځ نه چه نه به شی دفع کولے پلار دَ اولاد نه اونه اولاد به دفع کوؤنکے وی دَ پلار خپل نه هیڅ ځیز یقیناً وعده دَ اللّٰه تعالیٰ حقه ده نو د هوکه دِ نه کړی تاسو لره ژوند دُنیوی او دهوکه دِ نکړی تاسو لره په اللّٰه تعالیٰ باندے دهوکه در کوؤنکے (۳۳) یقیناً اللّٰه تعالیٰ خاص دَ هغه سره دے علم دَ قیا مت او راوروی باران او عالم دے په تفصیلاتو دَ هغه چه په رحمونو (بچه دانئ) کښ دی اونه پوهیږی هیڅ څوك چه څه به کوی صباالو نه پوهیږی هیڅ نفس چه په کومه زمکه کښ به مړ کیږی یقیناً اللّٰه تعالیٰ پوهه دے او خبردار دے په پټو خبرو باندے (۳٤)

[۳۲] په دے ایت کښ زجردے په ناشکرئ کولودَ تیرشوی نعمت یعنی دَ خوف اوهیبت دَ چپودَ دریاب دَوجے نه اللّٰه تعالیٰ ته عاجزی کوی ﴿مُقْتَصِدٌ﴾ دلته مقتصد مؤحد دے چه نه افراط کوی چه دَ وجود دَ اللّٰه تعالیٰ نه انکاراوکړی اونه تفریط کوی چه دَ اللّٰه تعالیٰ نه سیوا نورهم اِلٰهه ګڼړی ﴿خَتَّارٍ﴾ خترغدرته وئیلے کیږی اودا وی دَوجے دَ بے صبرئے نه نودا ئے دَصبار په مقابله کښ ذکرکړواو کَفُورٍ ئے په مقابله دَ شکورکښ ذکرکړلو۔ یعنی سیوا دَمؤحدینونه دوه قسمه خلق دی یوهغهٔ چه دَ اللّٰه تعالیٰ اودَ هغهٔ دَ نعمتونونه مطلقاً منکروی لکه دهریان نوختّارکښ هغه مراد دی۔ اودویم قسم مشرك چه اللّٰه تعالیٰ منی اونعمتونه ئے هم منی لیکن ورسرهٔ شریك جوړوی کفورکښ هغهٔ ته اشاره ده۔

[۳۳] روستودَ تفصیلی دَلیلونودَتوحیداوزجرونودَ منکرینونه دعوت عامه ورکوی توحید اوتقویٰ ته اوتخویف ورکوی دَ عذاب اخروی نه ﴿فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا﴾ دا تزهید فی الدنیا دے۔ یعنی دَ دنیا ژوند همیشه اونه ګڼړئے اودَ دنیا دَمالونو اوجاه اومرتبے په وجے سره دَ اخرت نه غافل نشئے او دا خومتاع دَ غروردے لکه په سورة العمران (۱۸۵) کښ دی ﴿بِاللّٰهِ﴾ مراد دادے چه درته اُوائی چه اللّٰه تعالیٰ نیشته یا اُوائی چه شفعاء اوشرکاء دَ اللّٰه تعالیٰ شته هغوی به نجات درکوی یا اُوائی چه اللّٰه تعالیٰ غفور ورحیم دے ګناه کوه هیڅ پرواه مکوه یا اُوائی چه اللّٰه تعالیٰ ته ضرور وسیله پکاردہ نوپه وسیله شرکیه کښ دِ اخته کړی یا اُووائی چه اللّٰه تعالیٰ یودے اویوخوصرف یوکارکولے شی نودَ دے وجے نورمعبودان اوخالقان اوحاجت رواسیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه هم شته دے۔

[۳٤] دا دلیل عقلی علمی دے۔ لفظ دَ عِنْدَهٗ، دلیل دے په تخصیص دَ علم دَ ساعت په اللّٰه پورے هرکله چه علم دَعلاماتودَ هغے اللّٰه تعالیٰ انبیاؤ علیهم السلام ته خودلے دے، نومن وجه علم غیروته حاصل شو دَ

سُوْرَةُ السَّجْدَةِ (۳۲) مَكِّيَّةٌ (۷۵) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۳۰ رُكُوْعَاتُهَا ۳

(بقیه تفسیر دَ سورة لقمان) دے وجے نه لاتدری ئے دَ دے سره نه دے وئیلے ﴿وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ﴾ دلته ئے فعل(انزال)ذکرکړوچه هرکله دا انزال دَ اللّٰه تعالیٰ فعل دے نومعلومه شوه چه هغهٔ پرے ضرور عالم دے۔ دلته یواشکال دے چه په رحِم دننه دَ بچی علم په الاتودَ ډاکټرانوسره حاصیلګی نوځه رنګ تخصیص په اللّٰه تعالیٰ پورے صحیح کیدے شی؟ جواب دادے چه مافی الارحام نه صرف وجود دَبچی یا مذکرمؤنث کیدل مراد نه دی بلکه دَ هغے، بچی په باره کښ دَ پوره حالاتوعلم دے۔ چه دے به کوم وخت پیداکیږی اودے به صالح عمل کوی اوکه بدعمل به کوی او دَدهٔ به څومره ژوندوی کوم کوم وطن ته به سفرکوی څومره اوخرنګ تکلیفونه به په دهٔ باندے راځی۔ مالدار به وی اوکه غریب به وی جنتی به وی اوکه جهنمی به وی وغیره دا احوال په هیڅ الاتوسره هیڅ چاته معلوم نه دی۔ دَ دے علم خاص دے په اللّٰه تعالیٰ پورے۔

فائده: حدیث صحیح کښ دے پنځوامورونه ئے مفاتیح الغیب وئیلی دی، اشاره ده چه صرف پنځه څیزونه نه دی بلکه هریودَ دے نه په ے شماره جزئیاتوباندے مشتمل دے تفصیلی حالات دَقیامت، تفصیلی حالات دَباران، تفصیلی حالات دَ بچی، تفصیلی حالات دَ اعمالودَ صبا، تفصیلی حالات دَ هغه ځائے چه دَ مرګ دے نودا خزانے دَ غیب دی۔

سورة سجده

دَ دے سورة نور نومونه دا دی : سورة الم سجده، سورة السجدة، سورة المضاجع، سورة سجدة لقمان۔

ربط: دَ دے دَ مخکښ سورة سره دا دے (۱) هرکله چه مخکښ سورة کښ رد اوکړے شو په شرك باندے په عقلی اونقلی دلیلونو سره نوپه دے سورة کښ فرق بیانوی دَ مشرك اومؤحد په مینځ کښ په دنیا او اخرت کښ (۲) په دے سورة کښ دَ سورة لقمان دَ اخری ایت تشریح ده دَ اولے جملے (ان اللّٰه عنده علم الساعة) تشریح په (۵،۱۱،۱۲،۱۳،۱۴)کښ ده۔ دَ دویمے جملے (وینزل الغیث) تشریح په (۲۷)کښ ده دَ دریمے جملے (ویعلم ما فی الارحام) تشریح په (۸، ۹)کښ ده۔ دَ څلورمے جملے (وماتدری نفس ماذا تکسب غدا) تشریح په (۵،۱۳)کښ ده۔ دَ پنځمے جملے (وماتدری نفس بای ارض تموت) تشریح په (۱۰،۱۱)کښ ده۔

دعویٰ دَ دے سورة : بیان دَ فرق په مینځ دَ حال دَ مؤمن اودَ حال دَ مشرك کښ۔ مأخذ دَ دے په (۱۶)کښ ذکردے۔ دَ ابتداء نه تر(۱۴) پورے ذکردَ احوالودَ منکرینودے اوپه (۱۳کښ قرآن ته نسبت دَ افتراء دے په (۹)کښ شکرنه کول په (۱۰) کښ دَ دوباره ژوند نه انکارکول اوپه (۱۲)کښ مرګ راوستل په دوی باندے په قیامت کښ اودَ دے مجرمانوحال په (۱۴،۱۳)کښ ذکردی۔ احوال دَ مؤمنانوپه (۱۵،۱۶،۱۷)کښ۔ بیا ذکردَ فرق دَ (۱۸) نه تر(۲۲) پورے په طریقه دَ جزا او سزابیا ذکردَحال دَ مؤمنانومخکښنوپه (۲۳،۲۴،۲۵)کښ بیا زجراوتخویف منکرینوته په (۲۶،۲۷،۲۸،۲۹)کښ ذکر کوی اخری ایت تفریع ده په کل سورة باندے۔

الٓمّٓ ﴿١﴾ تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ لَا رَيْبَ فِيْهِ مِنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٢﴾ اَمْ يَقُوْلُوْنَ افْتَرٰىهُ ۚ بَلْ هُوَ الْحَقُّ
مِنْ رَّبِّكَ لِتُنْذِرَ قَوْمًا مَّآ اَتٰىهُمْ مِّنْ نَّذِيْرٍ مِّنْ قَبْلِكَ لَعَلَّهُمْ يَهْتَدُوْنَ ﴿٣﴾ اَللّٰهُ الَّذِيْ خَلَقَ
السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِيْ سِتَّةِ اَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ ۭ مَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ مِنْ
وَّلِيٍّ وَّلَا شَفِيْعٍ ۭ اَفَلَا تَتَذَكَّرُوْنَ ﴿٤﴾ يُدَبِّرُ الْاَمْرَ مِنَ السَّمَآءِ اِلَى الْاَرْضِ ثُمَّ يَعْرُجُ اِلَيْهِ فِيْ يَوْمٍ
كَانَ مِقْدَارُهٗٓ اَلْفَ سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّوْنَ ﴿٥﴾ ذٰلِكَ عٰلِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ﴿٦﴾ الَّذِيْٓ

الف لام میم (۱) نازلیدل دَ دے کتاب شك نیشته په دے کښ دَ طرف دَ رب دَ مخلوقات نه دے (۲) ایا دوی وائی چه دا (قرآن) ئے دَځان نه جوړ کړے دے بلکه دا حق دے ستا دَ رب دَ طرف نه دے دپاره چه ویره ورکړے هغه قوم ته چه نه دے راغلے هغوی ته ویره ورکوؤنکے ستانه مخکښ دَ دے دپاره چه هدایت اومومی (۳) خاص اللّٰه تعالیٰ هغه ذات دے چه پیدا کړیدی اسمانونه او زمکه او هغه چه مینځ دَ دے کښ دی په اندازه دَ شپږ ورځو کښ بیا برابر شویدے دَ عرش د پاسه نیشته تاسو لره سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه هیڅ بچ کوؤنکے اونه سفارشی ایا پس ولے نصیحت نه قبلوئ (٤) انتظام کوی اللّٰه تعالیٰ دَ کار دَ اسمان نه (رالیږی) زمکے ته بیا ورځیږی هغه ته په یو ورځ کښ چه اندازه دَ هغے زر کاله ده دَ هغے نه چه تاسوئے شماره کوئے (٥) دغه ذات دے عالم په هر پټ او ښکاره زورآور او رحم کوؤنکے دے (٦) هغه ذات

خلاصه دَ سورة دا ده: په دے کښ دوه بابونه دی اول باب تر(۱۸) پورے دے۔ اول ترغیب الی القرآن په (۲) کښ بیا زجر منکرینوته په (۳) کښ بیادرے عقلی دلیلونه په (٤،٥،٧) کښ بیا زجرپه انکارد اخرت باندے بیاتخویف اخروی درے ایاتونو کښ اوبشارت په درے ایا تونو کښ۔

تفسیر

[۱] دا تنبیه ده په اعجاز دَ قرآن باندے۔

[۲] دا صدق دَ قرآن دے دَپاره دَ ترغیب اوپه دے کښ اشاره ده چه مرتابین اګرچه ډیردی لیکن دَ هغوی په ارتیاب سره په قرآن کښ هیڅ ریب ندے پیداشوے۔

[۳] دا زجردے منکرینودَ قرآن ته ﴿مَآ اَتٰىهُمْ مِّنْ نَّذِيْرٍ﴾ اشاره ده چه دَ دوی انذارډیرسخت دے دَ وجے دَ جهل دَ دوی نه او دارنګ اشاره ده چه دا قوم دے نبی ته ډیرمحتاج دے په هدایت کښ۔

[٤] دا تفصیل دَ انذاردے په ذکردَتوحید سره دَ دلیل عقلی نه ﴿مَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا شَفِيْعٍ﴾ امدادکوؤنکے دوه قسمه وی یوهغه چه پخپله تصرف کولے شی حاجت پوره کولے شی مصیبت لرے کولے شی اوهغهٔ ته ولی وئیلے کیږی۔ دویم هغه چه پخپله کارنشی کولے لیکن مالك اواختیارمندته په کلکه ویناکولے شی چه دَ دے شخص حاجت پوره کړه نودهٔ ته شفیع وئیلے کیږی نودَ توحید دَ اثبات دپاره دَ دے دواړو نفی اوکړے شوه۔

[٥] دابل دلیل عقلی دے۔ یعنی هرکله چه ثابته شوه چه اللّٰه تعالیٰ خالق دے دَعرش دَپاسه مستوی دے او پوره اختیارمند دے نواوس ذکرکوی چه دَ دے عالم نظام چلوؤنکے هم هغهٔ دے دا نظام ئے چاته ندے

اَحْسَنَ كُلَّ شَیْءٍ خَلَقَهٗ وَبَدَاَ خَلْقَ الْاِنْسَانِ مِنْ طِیْنٍ ۝۷ ثُمَّ جَعَلَ نَسْلَهٗ مِنْ سُلٰلَةٍ مِّنْ مَّآءٍ
مَّهِیْنٍ ۝۸ ثُمَّ سَوّٰىهُ وَنَفَخَ فِیْهِ مِنْ رُّوْحِهٖ وَجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ وَالْاَفْـِٕدَةَ ؕ قَلِیْلًا مَّا
تَشْكُرُوْنَ ۝۹ وَقَالُوْٓا ءَاِذَا ضَلَلْنَا فِی الْاَرْضِ ءَاِنَّا لَفِیْ خَلْقٍ جَدِیْدٍ ؕ بَلْ هُمْ بِلِقَآئِ رَبِّهِمْ كٰفِرُوْنَ ۝۱۰

چه خائسته ئے جوړ کړے دے هر څیز چه پیدا کړے دے او شروع کړے دے پیدائش دَ انسان دَ خټونه (۷) بیائے جوړ کړے نسل دَ هغه لره دَ رابنکلے شوے اوبو سپکونه (۸) بیائے برابر کړو هغه او اوپوکوئے په هغے کښ دَ روح خپل نه او جوړ کړیدی تاسو لره غوږونه او سترګے اوزړونه ډیر لګه شکریه کوئے تاسو (۹) او دوی وائی ایا کله چه مونږ روک شو په خاورو کښ ایا شو به مونږ په پیدائش نوی کښ بلکه دوی دَ ملاقات دَ رب خپل نه انکار کوی (۱۰)

سپارلے نومعلومه شوه چه قطبان غوټان نیشته چه هغوی دَ دنیا تدبیر کولے شی۔ په دے ایت کښ دوه تفسیرونه دی اول دا دے چه الاَمرَنه مراد هرکارد کارونودَ دے عالم نه چه په عالم اسفل کښ انسانانوته بنکاره کیږی اوپه دے زمکه کښ چلیږی او ﴿یَعْرُجُ﴾ په معنیٰ دَ یرجع دے اوضمیر دغه امرته راجع دے او رجوع روستودَ فنا دَعالم نه مراد ده ﴿فِیْ یَوْمٍ﴾ متعلق دے په یعرج پورے اومراد دَ دے نه ورځ دَ قیامت ده۔ دویم تفسیردادے چه الامرنه مراد وحی ده چه په واسطه دَجبریل سره را لیږلے کیږی، دَمِنَ السَّمَآءِ سره فینزل پټ دے او یَعْرُجُ ضمیر جبریل ته راجع دے او فِیْ یَوْمٍ نه مراد ورځ ده دَ دنیا دَ ورځونه اوهرکله چه حدیث سره ثابت ده چه په مینځ دَ اسمان اوزمکه کښ پنځه سوه کلونه مسافت دے نو تله او راتله دواړه طرفته زرکلونه شول۔ او فِیْ یَوْمٍ متعلق دے په دواړوفعلونو پورے (فینزل او یعرج) اومقصود په دے ایت کښ تدبیرد وحی شواواشاره ده صدق دَ قرآن ته۔

[٦] داهم دلیل عقلی دے اوتائید دَ ماقبل دے یعنی اللّٰه تعالیٰ تدبیرد دے وجے نه کولے شی چه هغهٔ دَ دے عالم تفصیلی علم لری بغیرد دے علم نه تدبیرنشی کیدلے۔

[۷] دابل دلیل عقلی دے، مخکښ دلیل افاقی وؤاودادلیل انفسی دے ﴿اَحْسَنَ﴾ مراد داچه هرمخلوق ئے په مناسب شکل وصورت اواندامونوسره پیدا کړے دے ﴿وَبَدَاَ خَلْقَ الْاِنْسَانِ﴾ هرکله چه عام خلق ئے ذکرکړونودَ دے جملے نه دَ انسان دَ پیدائش ترتیب ذکرکوی۔

فائده: دا صریح دے چه اول انسان ئے دَ څخے نه پیدا کړے وؤنومنطقی نتیجه را اوتله چه اول انسان آدمعليه السلام وؤ۔ نودانظریه بالکل غلطه ده چه څوك وائی چه آدم اول انسان نه دے۔

[۸] ﴿سُلٰلَةٍ﴾ په زور راویستلے شوی ته وئیلے کیږی اشاره ده چه کومه نطفه چه دَ شهوت په زورسره دَ مَلا اودَ سینے نه راویستلے شی نو دَ هغے نه ولد پیدا کیږی دَ هسے نطفے نه انسان نه پیدا کیږی۔

[۹] په دے کښ تتمه دَخلق دَانسان ده ﴿سَوّٰىهُ﴾ دَ دے نه مراد هغه انقلابات دی ترپوره کولودَ اعضاؤ پورے کوم چه سورهٔ مؤمنون (۱۳، ۱٤) کښ ذکرشوی دی ﴿رُوْحِهٖ﴾ دَ دے اضافت اللّٰه تعالیٰ ته په دے وجه کړے شوے دے چه دَ روح دَپیدائش دَپاره هیڅ ظاهری ماده نیشته۔ اوسمع، بصر، زړه، ئے خاص ذکرکړل ځکه چه دا قوتونه هم پټ دی پشان دَ روح اگرچه اعضاء دَ دے بنکاره دی۔

قُلْ يَتَوَفّٰىكُمْ مَّلَكُ الْمَوْتِ الَّذِيْ وُكِّلَ بِكُمْ ثُمَّ اِلٰى رَبِّكُمْ تُرْجَعُوْنَ ﴿١١﴾ وَلَوْ تَرٰٓى اِذِ الْمُجْرِمُوْنَ
نَاكِسُوْا رُءُوْسِهِمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ ؕ رَبَّنَآ اَبْصَرْنَا وَسَمِعْنَا فَارْجِعْنَا نَعْمَلْ صَالِحًا اِنَّا مُوْقِنُوْنَ ﴿١٢﴾
وَلَوْ شِئْنَا لَاٰتَيْنَا كُلَّ نَفْسٍ هُدٰىهَا وَلٰكِنْ حَقَّ الْقَوْلُ مِنِّيْ لَاَمْلَـَٔنَّ جَهَنَّمَ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ

ته اُوایه سابه اخلی ستاسونه ملك دَ مرګ هغه چه مقرر کړے شوے دے په تاسو باندے بیا به ستاسو رب ته تاسو پیش کیدلے شئ (۱۱) اوکه چرے اُوینے ته هغه وخت چه مجرمانو به ښکته کړی وی سرونه خپل په نیز دَ رب دَ دوی (وائی به) اے ربه زمونږه اولیدل مونږ او واوریدل مونږ نو واپس اوګرځوے مونږ چه عمل اوکړو نیك عمل یقیناً مونږ یقین کوؤنکی یو (۱۲) اوکه غوښتلے وے مونږ ضرور ورکړے به وے مونږ هر تن ته هدایت دَ هغه اولیکن پوره شوے ده فیصله دَ عذاب زما دَ طرف نه چه ضرور به ډکه ووم جهنم لره دَ پیریانو او انسانانونه

[۱۰] دا زجرډے په انکارډَ بعث بعد الموت سره۔ اوهرکله چه محکمین صدق دَ رسول اوبیا بیان دَ توحید په دلیلونوسره اوشونو اوس ځلورم مقصد ذکر کوی (یعنی اثبات دَ اخرت) اوهرکله چه تیرشوی دلیلونه دَ اثبات دَ قیامت دَپاره هم کافی وؤ دَ دے وجے نه دَ دے دَپاره ئے نور دلیلونه ذکرنه کړل۔

[۱۱] دا جواب دَ انکار دَ دوی دے چه محکمین ایت کښ ذکر شو۔ حاصل داچه ستاسو روح دَ اللّٰه تعالیٰ په اختیارکښ دے چه دَ هغے په قبض کولو باندے ملك الموت مقررکړے دے نو دا دَقادر ذات دَ شان نه لرے نه ده چه تاسو دوباره پیداکړی۔

فائده: اشکال دادے چه دلته ملك الموت ئے مفرد ذکر کړے دے اوپه سورة انعام (٦١) سورة نساء:(٩٧)کښ جمع ذکر شویدے دَ دے څه تطبیق دے؟ اول جواب دا دے چه ملك الموت یودے چه دَ هغهٔ نوم عزرائیل علیه السلام مشهور دے (اګرچه په هیڅ نص صحیح مرفوع کښ دانوم څما په علم کښ نیشته) خودَ هغهٔ سره نورملګری تابعدارملائك دی نودَ بعض دَ روح قبض کولوډَپاره پخپله لاړشی اوبعض دپاره نورملائك اولیږی۔ دویم جواب دا دے چه دلته کثوم روایتونه چه دَعزرائیل علیه السلام دَ تصرف عامه اوعلم عامه دَپاره مفسیرینوذکرکړی دی په هغے کښ هیڅ روایت مرفوع صحیح نیشته۔ (واللّٰه اعلم)

[۱۲]داتحویف اخروی دے منکرینولره اوذکرداحوالوذَ دوی دے روستوذَ(الیه ترجعون)رجوع الی اللّٰه نه۔﴿الْمُجْرِمُوْنَ﴾ نه مرادهغه دی چه دَقرآن اورسول اوتوحید اوقیامت نه(چه تیرشوی ایاتونوکښ ذکرشول)انکارکوی﴿نَاكِسُوْا رُءُوْسِهِمْ﴾ داعلامت دَ ملامتیا او دَشرمندګئ او دَ ذلت دے ﴿رَبَّنَا اَبْصَرْنَا وَسَمِعْنَا﴾ مراد دَ دے نه علم دَ هغه خبرودے چه دوی په دنیا کښ دَ هغے انکارکړے وؤ۔ اکثردوی انکارکوؤدَ هغه څهٔ نه چه دوی په سترګوباندے نه لیدلو(چه هغه په یؤمنون بالغیب کښ مراد دی) اودارنګ دوی وحی دَ اللّٰه تعالیٰ اوقرآن وحدیث ته نه په دنیاکښ غوږ کیخودلواوس هغه دواړه حالتونه ورته حاصل شول مجبوراً۔

اَجْمَعِيْنَ ﴿١٣﴾ فَذُوْقُوْا بِمَا نَسِيْتُمْ لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هٰذَا ۚ اِنَّا نَسِيْنٰكُمْ وَ ذُوْقُوْا عَذَابَ الْخُلْدِ بِمَا كُنْتُمْ
تَعْمَلُوْنَ ﴿١٤﴾ اِنَّمَا يُؤْمِنُ بِاٰيٰتِنَا الَّذِيْنَ اِذَا ذُكِّرُوْا بِهَا خَرُّوْا سُجَّدًا وَّسَبَّحُوْا بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَهُمْ
لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ ﴿١٥﴾ السجدة تَتَجَافٰى جُنُوْبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَّ طَمَعًا ۫ وَّمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ
يُنْفِقُوْنَ ﴿١٦﴾ فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّآ اُخْفِيَ لَهُمْ مِّنْ قُرَّةِ اَعْيُنٍ ۚ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿١٧﴾ اَفَمَنْ كَانَ السجدة ٩

په یوځائے (١٣) (اوبه وئیلے شی) اوځکئی په سبب دَ هیرولو ستاسو ملاقات ستاسو دَ دے ورځے یقیناً مونږ به تاسو هیر کړو او اوځکئی عذاب دَ همیش والی په سبب دَ هغه عملونو چه تاسو کول (١٤) یقیناً ایمان لری په ایاتونو زمونږ هغه کسان چه کله بیان شی دوی ته ایاتونه پریوځی سجده کوؤنکی او تسبیح وائي سره دَحمد دَ رب خپل نه او دوی لوئي نه کوی (١٥) لرے کیږی اړخونه دَ دوی دَ بسترو نه بلی خپل رب لره یره کوؤنکی او طمع لرونکی او دَ هغے نه چه مونږ ورکړیدی خرچ کوی (١٦) پس نه پوهیږی هیڅ نفس په حقیقت دَ هغے چه پټ ساتلے شویدے دوی دپاره یخ والے دَ سترګو بدله ده دَ هغه عملونو چه دوی کول(١٧) ایا هغه څوك

[١٣] داهم تخویف کښ داخل دے اودا متعلق دے په اَبْصَرْنَا وَسَمِعْنَا پورے یعنی په دنیاکښ دوی هدایت دَ دے وجے نه حاصل کړے نه وؤ چه هغهٗ دَ اللّٰه په اختیارکښ دے او دا مذهب دَ اهل سنت دے چه اللّٰه تعالیٰ دَ کافر دَ ایمان وهدایت اراده نه ده کړے اوهیڅ کاردَ اللّٰه تعالیٰ دَ ارادے نه بغیرنشی کیدے۔

[١٤] داهم تخویف کښ داخل دے۔ سبب دَ عذاب ئے نسیان دَ قیامت ذکر کړے دے ځکه چه انکار دَ قیامت سبب دے دَ نورو کفریاتودَپاره۔

[١٥] دا ذکردَ حال دَ مؤمنانودے روستودَ ذکرکولودَحال دَ منکرینونه دَ پاره دَ فرق اودا بشارت دے۔ په دے ایت کښ دَ دوی درے احوال ذکرکړیدی اول عمل دَاندامونوچه سجده ده۔ دویم عمل دَ زړے چه تسبیح اوحمد دے۔ دریم عمل دَ زړه دے چه تکبرنه کول دی او دا علامات دی دَ مؤمن بالقرآن۔

[١٦] مخکښ ایت کښ دَ ورځے حال ئے ذکرکړو په دے ایت کښ دَهغوی دَشپے حال ذکرکوی، اوداهم درے دی اول خپلوبسترونه پ ډه لرے ساتل ﴿اَلْمَضَاجِع﴾ کښ اشاره ده چه ټوله شپه عبادت نه کوی ځکه بسترے دَ آرام کولودَ پاره شته دے لیکن ټوله شپه په هغے باندے آرام هم نه کوی ۔ او هرکله چه په او ده کیدلو کښ سنت طریقه دا ده چه په ښی اړخ باندے څملئی دَ دے وجے نه جنوب ئے ذکرکړے دے او دویم حال﴿یَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ﴾ دے دائے په طریقه دَ جمله حالیه ذکرکړے دے اشاره ده چه دَ بسترے لرے کیدل دَ نورو فساقوفجارو پشان نه دی بلکه دَعبادت دپاره دی۔ اودریم حال ﴿وَمِمَّارَزَقْنَاهُمْ﴾ یعنی سره دَ عبادات بدنیونه عبادات مالیه هم کوی اوخپل مالونه دَ اللّٰه تعالیٰ په دین او دَ هغے په دعوت او تبلیغ باندے قربان کوی۔

[١٧] دا بشارت اُخرویه دے بنا دے په تیرشوی اسبابوباندے﴿فَلَاتَعْلَمُ نَفْسٌ﴾ په دے کښ ډیرتاکید اومبالغه ده دَ عظمت دَ نعمتونودَجنت، اوحدیث کښ وارد دی چه (مَالَا عَيْنٌ رَأَتْ وَلَا أُذُنٌ سَمِعَتْ وَلَا خَطَرَ عَلَى قَلْبِ بَشَرٍ) نه دَ چا سترګولیدلی دی اونه دَچاغوږونو اوریدلی دی اونهٗ دَ چاپه زړه باندے تیرشویدی۔ ځکه چه ادراك دَ دے اندامونو(حواسو) متناهی دے او نعمتونه دَ جنّت بے انتهاء دی۔

مُؤْمِنًا كَمَنْ كَانَ فَاسِقًا ؕ لَا يَسْتَوٗنَ ﴿۱۸﴾ اَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فَلَهُمْ جَنّٰتُ الْمَاْوٰى ۚ نُزُلًا
بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۹﴾ وَاَمَّا الَّذِيْنَ فَسَقُوْا فَمَاْوٰىهُمُ النَّارُ ؕ كُلَّمَآ اَرَادُوْٓا اَنْ يَّخْرُجُوْا مِنْهَآ اُعِيْدُوْا فِيْهَا
وَقِيْلَ لَهُمْ ذُوْقُوْا عَذَابَ النَّارِ الَّذِيْ كُنْتُمْ بِهٖ تُكَذِّبُوْنَ ﴿۲۰﴾ وَلَنُذِيْقَنَّهُمْ مِّنَ الْعَذَابِ الْاَدْنٰى دُوْنَ
الْعَذَابِ الْاَكْبَرِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿۲۱﴾ وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ ذُكِّرَ بِاٰيٰتِ رَبِّهٖ ثُمَّ اَعْرَضَ عَنْهَا ؕ اِنَّا

چه مؤمن وی پشان دَ هغه چادے چه نافرمان وی برابر نشی کیدے (۱۸) هرچه هغه کسان دی ایمان ئے راوړے دے او عملونه ئے کړیدی دَ سنت سره برابر نو دوی لره باغونه دَ اوسیدلو دی تیاره میلمستیا ده په وجه دَ هغه عملونو سره چه دوی کول (۱۹) او هر چه هغه کسان دی چه نافرمانی ئے کړے ده نوځائے دَ ورتللو دَ دوی اور دے هر وخت چه اوغواړی چه اوځی دَ هغے نه واپس به اوکړځولے شی په هغے کښ او اوبه وئیلے شی دوی ته اوځکئے عذاب دَ اور هغه چه تاسو دَهغے تکذیب کوؤ (۲۰) او ضرور اوبه څکوو مونږ دوی ته دَ عذاب نزدے نه مخکښ دَ عذاب لوے نه دپاره دَ دے چه اوکړځی (دَ کناهونونه) (۲۱) او څوك زیات ظالم دے دَ هغه چانه چه بیان کړے شی هغه ته ایا تونه دَ رب دَ هغه بیا مخ واړوی دَ هغے نه یقیناً مونږ

[۱۸] دَ دے ایت نه دویم باب دے تر آخره پورے په دے کښ ذکردَ تقابل دَ اهل ایمان اواهل کفردے په درے ایاتونو کښ بیا منکرینوته تخویف دُنیوی اوزجردے په دوه ایاتونو کښ بیا ذکردَحال دَ موسیٰ علیه السلام اودَ هغه دَ تابعدارانودے په طریقه دَ دلیل نقلی سره په درے ایاتونو کښ، بیا تخویف اوزجردے په درے ایاتونو کښ، اوتسلّی ده رسول الله ﷺ ته په اخری ایت کښ۔ په دے (۱۸)کښ دعویٰ دَ سورۃ ذکرده۔ ﴿فَاسِقًا﴾ دَ دے نه مراد فاسق دے په عقیده کښ یعنی کافراومشرك ﴿لَا يَسْتَوٗنَ﴾دَ قتاده نه روایت دے چه دوی نه دی برابرپه دُنیاکښ اونه په وخت دَ مرګ اونه په آخرت کښ۔

[۱۹] دا تفصیل دَعدم مساوات دے۔ نوپه دے ایت کښ ذکردَحال د مؤمنانودے اوبشارت دے دوی ته۔﴿اَلْمَاْوٰى﴾ مراد دَ دینه ځائے دَ همیشه دیره کیدلودے نودا مقابل دَ دُنیاشوچه هغه ځائے دَ ارتحال دے﴿نُزُلًا﴾ یعنی دَ دوی دپاره نعمتونه به هروخت دَمیلمنو پشان وی داسے نده (دَ دُنیا پشان) چه صرف درے ورځے به میلمه وی بیا به دَ کوربه پشان شی۔

[۲۰] دا ذکردَ حال دَ دویم فریق دے اودَ هغوی دپاره تخویف دے ﴿كُلَّمَآ اَرَادُوْٓا اَنْ يَّخْرُجُوْا مِنْهَآ﴾ په دے جمله کښ اشاره ده همیشه پاتے کیدلوته په جهنم کښ اودَ دوی اهانت اوبے عزتئے ته اشاره ده نو دا دَ نُزُلاً، په مقابله کښ دے۔

[۲۱] دا هم بیان دَحال دَ دویم فریق دے اوتخویف دُنیوی دے او﴿الْعَذَابِ الْاَدْنٰى﴾ نه مراد عذاب دَ دُنیادے ځکه چه ادنیٰ په معنیٰ دَ نزدے یا په معنیٰ دَکم درجے والادے ﴿دُوْنَ الْعَذَابِ الْاَكْبَرِ﴾ دَ دے نه مراد عذاب دَ اخرت دے یا مراد دَ دے نه عذاب قبر دے۔

مِنَ الْمُجْرِمِيْنَ مُنْتَقِمُوْنَ ﴿٢٢﴾ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ فَلَا تَكُنْ فِيْ مِرْيَةٍ مِّنْ لِّقَآئِهٖ وَجَعَلْنٰهُ
هُدًى لِّبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ﴿٢٣﴾ وَجَعَلْنَا مِنْهُمْ اَئِمَّةً يَّهْدُوْنَ بِاَمْرِنَا لَمَّا صَبَرُوْا ؕ وَكَانُوْا بِاٰيٰتِنَا
يُوْقِنُوْنَ ﴿٢٤﴾ اِنَّ رَبَّكَ هُوَ يَفْصِلُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فِيْمَا كَانُوْا فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ﴿٢٥﴾ اَوَلَمْ يَهْدِ

دَ مجرمانو نه بدله اخستونکی یو (۲۲) او یقیناً ورکړے وؤ مونږ موسیٰ(علیه السلام) ته کتاب نومه کیږه په شك کښ دَ ملاویدلو دَ هغه نه اوجوړ کړے وؤ مونږ دا کتاب هدایت دپاره دَ بنی اسرائیلو (۲۳) او جوړ کړی وؤ مونږ دَ دوی نه امامان چه بیان ئیے کوؤ په حکم زمونږ سره هرکله چه دوی صبر کړے وؤ او وؤ دوی چه په ایاتونو زمونږ ئیے یقین کوؤ (۲٤) یقیناً ستا رب به فیصله اوکړی دَ دوی په مینځ کښ په ورځ دَ قیامت په هغه څیز کښ چه دوی پکښ مختلف وؤ (۲۵) ایا اونه ده بسکاره شوے

[۲۲] داهم بیان دَحال دَ دویم فریق دے په طریقه دَ زجرسره اوبیان دَ سبب دَما قبل دَعذاب دے۔ ﴿مُنْتَقِمُوْنَ﴾ عذاب دَ دُنیا او اخرت دواړوته اشاره ده۔

[۲۳] دا ذکردَمؤمنانوسابقینودے اوتعلق لری دَسورة دَ ایت (۳،۲)سره یعنی تائید دے دَصدق دَ قرآن اودَ رسول ﴿فَلَا تَكُنْ فِيْ مِرْيَةٍ مِّنْ لِّقَآئِهٖ﴾ په معنیٰ دَ لِقَآءِ اوپه ضمیردَ هغے کښ اوپه اضافت کښ ډیراقوال دی، (۱)لقاء په معنیٰ دَ ملاقات (۲) تلقی یعنی قبلول (۳) اخستل (۱) اواضافت مفعول ته دے، (۲) یا اضافت فاعل ته دے اوضمیر راجع دے موسیٰ(علیه السلام) ته یاراجع دے کتاب ته یا رب ته۔ تفصیل دَ معنو دادے: (۱) پس مه کیږه په شك کښ دَ قبلولودَ موسیٰ(علیه السلام) نه دغه کتاب لره (۲) پس مه کیږه ته په شك کښ دَ اغستلوستانه مثل دَ دغه کتاب لره (۳) پس مه کیږه په شك کښ دَمخامخ کیدلوستانه پشان دَموسیٰ(علیه السلام) دَمصیبتونوسره (٤) پس مه کیږه ته په شك کښ دَ ملاقات کولوستانه موسیٰ(علیه السلام) سره په شپه دَ معراج کښ۔ یعنی هغه لیدل بالکل حق دی اودغه ملاقات دَ ارواحودَ هغوی سره وؤچه په شکل دَ بدنونودَ هغوی سره جوړ کړے شوی ووما سیوا دَ عیسیٰ(علیه السلام) نه (۵) پس مه کیږه په شك کښ دَ ملاقات ستا دَ خپل رب سره۔

[۲٤] په دے کښ امت دَ موسیٰ(علیه السلام)ذکرکوی چه په هغوی کښ دعوت اوتبلیغ جاری وؤنواشاره ده امت دَ اخری نبی(صلی الله علیه وسلم) ته چه دَ دهٔ په امت کښ به هم دعوت جاری وی اوپه دے ایت کښ ﴿اَئِمَّةً﴾ عام دے انبیاؤدَ بنی اسرائیلوته اوعلماؤدَ هغوی ته لکه سورة انبیاء (۷۳)کښ۔ اوپه دے ایت کښ دلیل دے چه په صبراویقین سره امامت دَ دین حاصلیږی(لکه چه ابن کثیروئیلی دی) په صبرسره دفع دَ شهواتو رائحی اوپه یقین سره زوال دَ شبهاتو حاصلیږی۔

[۲۵] دے ایت کښ ذکردی چه په امت دَ موسیٰ(علیه السلام) کښ اختلاف پیدا شویوؤنواشاره ده چه په دے امت کښ به هم اختلافات پیداکیږی لکه په حدیث دَ (ستفترق امتی علی ثلث سبعین فرقة)کښ دا ذکرشویدی۔

لَهُمْ كَمْ اَهْلَكْنَا مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنَ الْقُرُوْنِ يَمْشُوْنَ فِيْ مَسٰكِنِهِمْ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ ؕ اَفَلَا يَسْمَعُوْنَ ﴿٢٦﴾
اَوَ لَمْ يَرَوْا اَنَّا نَسُوْقُ الْمَآءَ اِلَى الْاَرْضِ الْجُرُزِ فَنُخْرِجُ بِهٖ زَرْعًا تَاْكُلُ مِنْهُ اَنْعَامُهُمْ وَ اَنْفُسُهُمْ ؕ
اَفَلَا يُبْصِرُوْنَ ﴿٢٧﴾ وَيَقُوْلُوْنَ مَتٰى هٰذَا الْفَتْحُ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿٢٨﴾ قُلْ يَوْمَ الْفَتْحِ لَا يَنْفَعُ الَّذِيْنَ
كَفَرُوْٓا اِيْمَانُهُمْ وَلَا هُمْ يُنْظَرُوْنَ ﴿٢٩﴾ فَاَعْرِضْ عَنْهُمْ وَانْتَظِرْ اِنَّهُمْ مُّنْتَظِرُوْنَ ﴿٣٠﴾ ع

دوی ته چه څومره هلاك کړیدی مونږ مخکښ دَ دوی نه دَ پیړونه چه ګرځی دوی په کورونو دَ هغوی کښ یقیناً په دے کښ ډیر دلیلونه دی ایا نو دوی نه اوری (٢٦) ایا دوی نه ګوری چه مونږ چلوو اوبه (باران) زمکے شاړے ته نو را او باسو په هغے سره فصل چه خوری دَ هغے نه څاروی دَ دوی او ځانونه دَ دوی ایا نو دوی نه وینی (٢٧) او دوی وائی چه کله به وی دا فیصله که تاسو رشتینی ئیے (٢٨) اُوایه په ورځ دَ فیصلے نفع نه ورکوی کافرانو ته ایمان راوړل دَ هغوی او نه به دوی لره مهلت ورکیدے شی (٢٩) نو مخ واړوه دَ دوی نه او انتظار کوه یقیناً دوی هم انتظار کوی (٣٠)

[٢٦] دازجردے دویم فریق ته چه منکرین دی چه دوی دَ تیرشوؤ منکرینو دَ عذابونو دَ دُنیانه هیڅ عبرت نه اخلی ﴿اَفَلَا يَسْمَعُوْنَ﴾ هرکله چه واقعات دَتیرشوی قومونودَ اوریدلوسره تعلق لری دَ دے وجے نه زجرئیے په نه اوریدلوسره ذکر کړو۔

[٢٧] دابل زجردے چه دامنکرین دَ عقلی دلیلونونه هم عبرت نه اخلی اوهرکله چه دا ایات (دلیلونه) دَ لیدلو سره تعلق لری دَ دے وجے نه دَ دے په اخر کښ اَفَلَا يُبْصِرُوْنَ، ذکر کړو۔

[٢٨] داهم زجردے په انکار دَ قیامت سره او دا متعلق دے دَ(٢٥) سره چه په هغے کښ دَ فصل(فیصلے دَ قیامت) ذکراوکړو نودوی انکار شروع کړو۔

[٢٩] دا جواب دے یعنی دَ دوی مقصد دا دے که چرے بالفرض دَ فیصلے ورځ راشی نوبیا به هغه وخت ایمان راوړو نو جواب اوشوچه په هغه ورځ ایمان نه قبلیږی ځکه چه دغه ایمان جبری دے۔

[٣٠] دا تفریع ده په ماقبل زجرونو باندے اوتسلّی ده نبی ﷺ ته، اواعراض نه مراد دَ دوی نه بے پرواه کیدل او دَ دوی نه برائت کول دی۔

سُوْرَةُ الْاَحْزَاب (۳۳) مَدَنِيَّةٌ (۹۰) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۷۳ رُكُوْعَاتُهَا ۹

يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ اتَّقِ اللّٰهَ وَلَا تُطِعِ الْكٰفِرِيْنَ وَالْمُنٰفِقِيْنَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ۝ وَّاتَّبِعْ مَا يُوْحٰٓى اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا ۝ وَّتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ ۭ وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيْلًا ۝

اے نبی (همیشه) ویره کوه دَ اللّٰه تعالیٰ نه او خبره مه منه دَ کافرانو او دَ منافقانو یقیناً اللّٰه تعالیٰ دے پوهه حکمتونو والا (۱) او تابع اوسه دَهغے چه وحی کیدے شی تاته دَ طرف دَ رب ستانه یقیناً اللّٰه تعالیٰ دے ستاسو په عملونو باندے خبر دار (۲) اوځان اوسپاره په اللّٰه تعالیٰ باندے او پوره دے اللّٰه تعالیٰ ذمه وار (۳)

سورة الاحزاب

ربط : دَ دے دَ مخکښ سورة سره په ځوطریقو سره دے۔ اوله طریقه تیرشوی سورة کښ مسئله دَ توحید وه نو په دے سورة کښ دَ رسول اللّٰهﷺ تابعداری ذکر کوی ۔ دویمه طریقه مخکښ سورتونو کښ رد دَ شرك وؤ نو په دے سورة کښ رد دے په بدعاتو شرکیو باندے۔ دریمه طریقه تیرشوی سورتونو کښ اثبات دَ توحید وونوپه دے سورة کښ تیزی ورکوی په دعوت او تبلیغ دَ دے مسئلے باندے۔

دعویٰ دَ دے سورة : تیزی ورکول رسول اللّٰهﷺ ته په دعوت اوپه رد دَ بدعاتو باندے په دولس خطاباتو کښ او تیزی ورکول امت ته عموماً اوخصوصاً په اطاعت کولو اوپه توقیر کولو دَ رسول اللّٰهﷺ سره په شپارس خطاباتو کښ او اثبات دَ توحید په ذکر دَ درے مثالونوسره اوپه نهه ایاتونو کښ۔

خلاصه دَدے سورة: داسورة تقسیم دے ځلورووبابونوته اول باب (۹) پورے دے۔ په دے کښ دعویٰ دَ سورة ده په ذکرد ځلورووخطاباتودَ رسول اللّٰهﷺ تر(۳) پورے بیا رد دے په درے اقوالودَ اهل رسوموا واشاره ده مثالونو ته په (٤) کښ۔ اوخطاب دے مؤمنانوته په (٦،٥) کښ اوپنځم خطاب دَ نبیﷺ دے په (۸،۷) کښ۔

تفسیر

[۳،۲،۱] په دے ایاتونو کښ ځلورخطابات دی نبیﷺ ته درے اوامراویونهی ده دَ ټولوحاصل تیزی ورکول دی په دعوت اوتبلیغ باندے۔

فائده: دَ دے سورة په ابتدا کښ خازن اوخطیب شربینی اونورومفسرینو لیکلی دی چه دَ اُحد واقعے نه روستودَ مشرکان مکه وفد راغے اودَمنافقان مدینه سره ئے مشوره اوکړه او رسول اللّٰهﷺ ته راغلل اوهغه سره دَ اتحاد اودَ مصالحت خبره په دے طریقه اوکړه چه ته لات منات وغیره ته بد مه وایه بلکه دوی شفعاء قهریه اومنه لکه چه زمونږعقیده ده اومونږبه هم تاته په نوروخبروکښ رکاوټ نه اچوؤخپل نوردعوت کوه اومنافقانوهم دَ هغوی تائید اوکړوچه دا اختلاف پریږده اودَ جنګونو نه به خلاص شے اودوی به په تا باندے حملے نه کوی (دَ دے ټولو خبرو مقصد ترغیب دَ مداهنت ورکول وو رسول اللّٰهﷺ ته) نو دَ دے سورة ابتداء دَ هغوی په جواب کښ نازل شوه ﴿وَكِيْلًا﴾ دا دَ اللّٰه تعالیٰ په صفت کښ دے مراد دَ دینه هغه ذات دے چه دَ ټولوکارونوذمه واراوتدبیرجوړوؤنکے وی او په دے صفت کښ دَ اللّٰه تعالیٰ شریك نیشته دَ دے وجے نه وکفیٰ ئیے ذکرکړے دے۔

مَا جَعَلَ اللّٰهُ لِرَجُلٍ مِّنْ قَلْبَيْنِ فِيْ جَوْفِهٖ ۚ وَمَا جَعَلَ اَزْوَاجَكُمُ الّٰٓـِٔيْ تُظٰهِرُوْنَ مِنْهُنَّ اُمَّهٰتِكُمْ ۚ
وَمَا جَعَلَ اَدْعِيَآءَكُمْ اَبْنَآءَكُمْ ۭ ذٰلِكُمْ قَوْلُكُمْ بِاَفْوَاهِكُمْ ۭ وَاللّٰهُ يَقُوْلُ الْحَقَّ وَهُوَ يَهْدِي السَّبِيْلَ ۴
اُدْعُوْهُمْ لِاٰبَآىِٕهِمْ هُوَ اَقْسَطُ عِنْدَ اللّٰهِ ۚ فَاِنْ لَّمْ تَعْلَمُوْٓا اٰبَآءَهُمْ فَاِخْوَانُكُمْ فِي الدِّيْنِ وَمَوَالِيْكُمْ ۭ
وَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ فِيْمَآ اَخْطَاْتُمْ بِهٖ ۙ وَلٰكِنْ مَّا تَعَمَّدَتْ قُلُوْبُكُمْ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ۵

نه دی جوړ کړی اللّٰه تعالیٰ هیڅ سړی لره دوه زړونه په خپله دَ هغه کښ اونه دی جوړے کړی بیبانے ستاسو هغه چه تاسو ورسره ظهار کوئ میندے ستاسو اونه دی جوړ کړی په خولے بللے شوی (متبنّٰی) ځامن ستاسو دا وینا ستاسو ده په خولو ستاسو (بے دلیله) او اللّٰه تعالیٰ وائي حق اوهغه روانول کوی لارے دَحق ته (٤) نومونه اخله دَ دوی نسبت کوؤنکی پلارانو دَ دوی ته دا ډیر انصاف دے په نیز دَ اللّٰه تعالیٰ نو که نه پیژنے پلاران دَ دوی نو رونړه ستاسو دی په دین کښ او مریان (ازاد شوی) ستاسو دی او نیشته په تاسو باندے گناه په هغے کښ چه خطا شئے تاسو په هغے سره اولیکن (گناه دے) په هغے کښ چه قصد اوکړی زړونه ستاسو او دے اللّٰه تعالیٰ بخښنه کوؤنکے رحم کوؤنکے (٥)

[٤] مقصود په دے ایت کښ تردید دَ مشرکانودے په درے اقوالوباندے اول قول دَ دوی چه نبی ﷺ ته ئے وئیلی ووچه ته زمونږ معبودان شفعاء (قهریه) اومنه اومونږ به تا سره عظمت اوکبریاء دَ اللّٰه تعالیٰ تسلیم کړونودَ دے رد ئے اوکړوچه دَعقیدے محل زړه دے اوشرك اوتوحید دوه متضادعقیدے دی په یوزړه کښ دواړه نشی جمع کیدلے ځکه چه اجتماع دَضدینوپه یومحل کښ عقلاً محال ده اودوه زړونه خودَیوکس دپاره کیدے نشی نومعلومه شوه چه یوکس مؤحد اومشرك په یووخت نشی کیدے (نودَ دے ایت تعلق دے دَ اتق اللّٰه سره) دویم قول دَ دوی چه زوجه (بښځے) ته به ئے اُوئیل چه دا په ماباندے به دَ مور پشان وی نوهغه به ئے حقیقتاً مورگنړله اوهمیشه دپاره به ئے په ځان باندے حرامه گرځوله چه دَ هغے تفصیل اوتردید به په سورة مجادله کښ راځی۔ مراد دا دے چه په یوه بښځه کښ دا دواړه صفتونه متضاد نشی جمع کیدلے چه هم دِ موروی اوهم دِ زوجه وی اوپه دے کښ اشاره ده په طوردَ مثال سره چه عبد معبود نشی کیدے ۔ دریم قول دَ دوی چه دَ بل چا ځوئیی ته به ئے اُوئیل چه ته ځما ځوئیے ئے او هغه ته متبنیٰ وئیلے کیږی نوبیا به ئے وئیل چه داځوئیے دے دَ ځوئي احکام به ئے پرے چلول او دَ هغه بښځه به ئے دَ انګور پشان په ځان باندے همیشه حرامه گنړله۔ نو مراد دا دے چه په یو ولدکښ دا صفتونه متضاد نشی جمع کیدلے چه هم دِ دَ یو مور اوپلارنه پیداوی اوهم دِ دَ بل مور اوپلار نه پیداوی اوپدے کښ هم اشاره ده چه که دامشرکان دعویٰ اوزعم کوی دَ یوبنده په باره کښ چه دے ولد دَ اللّٰه تعالیٰ دے او فریادرس او معبود دے نودا اجتماع دَ ضدینوده ۔ اومحال ده عقلاً اوشرعاً۔

[٥] دا اول خطاب دے مؤمنانوته دَپاره دَ رد دَ رسم دَمشرکانواوذکردَ اَدب دے په باره دَ متبنّیٰ کښ۔ اوهرکله چه په دے سورة کښ واقعے دَ زید بن حارثه ته اشاره وه چه دَ هغه نه رسول اللّٰه ﷺ متبنّٰی جوړ کړے وؤ۔ اوخلقو به ورته زیدبن محمد وئیل او بیا چه رسول اللّٰه ﷺ دَ زید طلاقے کړے شوے بښځے (زینب)

اَلنَّبِیُّ اَوْلٰی بِالْمُؤْمِنِیْنَ مِنْ اَنْفُسِهِمْ وَاَزْوَاجُهٗۤ اُمَّهٰتُهُمْ ؕ وَاُولُوا الْاَرْحَامِ بَعْضُهُمْ اَوْلٰی بِبَعْضٍ
فِیْ كِتٰبِ اللّٰهِ مِنَ الْمُؤْمِنِیْنَ وَالْمُهٰجِرِیْنَ اِلَّاۤ اَنْ تَفْعَلُوْۤا اِلٰۤی اَوْلِیٰٓىِٕكُمْ مَّعْرُوْفًا ؕ كَانَ ذٰلِكَ
فِی الْكِتٰبِ مَسْطُوْرًا ۝۶ وَاِذْ اَخَذْنَا مِنَ النَّبِیّٖنَ مِیْثَاقَهُمْ وَمِنْكَ وَمِنْ نُّوْحٍ وَّاِبْرٰهِیْمَ وَمُوْسٰی وَ
عِیْسَی ابْنِ مَرْیَمَ ۪ وَاَخَذْنَا مِنْهُمْ مِّیْثَاقًا غَلِیْظًا ۝۷ لِّیَسْـَٔلَ الصّٰدِقِیْنَ عَنْ صِدْقِهِمْ ۚ وَاَعَدَّ لِلْكٰفِرِیْنَ

نبی ډیر مهربان دے په مؤمنانو باندے دَ ځانونو دَ هغوی نه او بیبیانے دَ دهٔ میندے دَ هغوی دی او رشته داران بعض دَ دوی حق دار دی (په میراث) دَ بعضو سره په حکم دَ اللّٰه تعالیٰ کښ دَ مؤمنانو او مهاجرینو نه مګر دا چه کول پکار دی دَ دوستانو ستاسو سره نیکی دے دا (حکم دَ اللّٰه تعالیٰ) په کتاب کښ لیکلے شوے (٦) او کوم وخت چه واخستو مونږ دَ پټولو پیغمبرانو نه لوظ دَهغوی او خاص ستانه او دَ نوح(علیه السلام) او ابراهیم(علیه السلام) اوموسیٰ(علیه السلام) او عیسیٰ(علیه السلام) ځوئ دَ مریم نه او اخستلے وؤ مونږ دَ دوی نه لوظ پوخ (۷) دے دپاره چه تپوس به کوی دَ رشتینونه دَ رشتیا وینا دَ هغوی اوتیارکړے دے کافرانو لره

سره په حکم دَ اللّٰه تعالیٰ سره نکاح اوکړو نومشرکانو اومنافقانو اعتراضونه کول شروع کړل چه داځنګه پیغمبر دے چه انګور (دَ ځوئ بښځے) سره ئے نکاح اوکړو نو دَ دے وجے نه په دے سورهٔ کښ ئے دَ هغوی تردید اوکړو ایت څلورم کښ اوفرمائیل چه زید دَ نبی ﷺ ځوی نشی کیدے نوپه دے ایت کښ منع کوی چه زید دَ ځوئی په طریقه سره نبی ﷺ ته مه منسوب کوئے ﴿اُدْعُوْهُمْ لِاٰبَآىِٕهِمْ﴾ مراد دَ دُعانه ذکر کول دَ نوم دَمتبنّیٰ دی اودارنګ هغه ته اوازورکول یعنی وائیے زید بن حارثه او اواز کوئے یا زید بن حارثه۔ ﴿وَلَیْسَ عَلَیْكُمْ جُنَاحٌ﴾ داعام قانون الٰهی دے که په مسئله دَ متبنّیٰ کښ وی اوکه په نورو اقوالو کښ وی خوخطاء په پټولو کښ معاف ده۔ اوهرکله چه خطاء معاف ده نو نسیان په طریق اولیٰ سره معاف دے ځکه په خطاء کښ حکم یاد وی خو خلاف ترینه بے ارادے اوشی او په نسیان کښ حکم هیروی۔

[٦] دا دویم خطاب دے مؤمنانوته په باره دَعظمت شان دَ نبی ﷺ اودَ بیبیانودَ هغه کښ ﴿اَوْلٰی﴾ معنیٰ داده چه زیات شفقت کوؤنکے اومهربان دے په مؤمنانو باندے دَ نفسونو دَ دوی نه ځکه چه نفس ئے اکثرخواهشاتوته بلنه کوی اوهغه سبب دَ هلاکت دے اوپیغمبر په هرحال کښ هدایت اونجات ته بلنه کوی۔ نو معلومه شوه چه شفقت دَ دهٔ دَ نفسونو بلکه دَ پلارانونه هم زیات دے ﴿وَاَزْوَاجُهٗۤ اُمَّهٰتُهُمْ﴾ مراد دَ دینه تشبیه ده دَ میندوسره په واجب کیدلودَ تعظیم دَ هغوی کښ اوپه همیشه حرامولی دَ نکاح دَ هغوی کښ یعنی دَ هغهٔ په بیبیانوپسے هم دَ عیب خبرے مکوئے پشان دَ میندو ئے اوګنړئے ﴿وَاُولُوا الْاَرْحَامِ﴾ په دے جملے سره یو وهم دفع کوی هغه دادے چه هرکله نبی ﷺ پشان دَ پلار دَ امت دے اوبیبیانے دَ هغهٔ میندے دی ستاسونو دَ هغوی میراث هم دَ دے امت حق به وی؟ جواب اوشوچه دَمیراث تعلق دَ نسب سره دے او مراد دَ اولو الارحام نه قرابت دَ نسب دے ﴿اِلَّاۤ اَنْ تَفْعَلُوْۤا اِلٰۤی اَوْلِیٰٓىِٕكُمْ مَّعْرُوْفًا﴾ مراد دَ اولیاء نه دوستان په سبب دَ ایمان او دَ هجرت سره دی او دَ معروف نه مراد وصیت کول، هدیه ورکول او احسان کول دی۔

[۸،۷] په دے کښ پنځم خطاب دے رسول اللّٰه ﷺ ته په باره دَ وعدے کښ دَ دعوت دَپاره ۔ او ربط مخکښ ایت سره ئے دادے چه په هغے کښ ثابته شوه چه نبی زیات شفقت او رحم کوی په امت باندے نو په

عَذَابًا اَلِيْمًا ۞ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اذْكُرُوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ اِذْ جَآءَتْكُمْ جُنُوْدٌ فَاَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ
رِيْحًا وَّجُنُوْدًا لَّمْ تَرَوْهَا ۭ وَكَانَ اللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرًا ۞ اِذْ جَآءُوْكُمْ مِّنْ فَوْقِكُمْ وَمِنْ اَسْفَلَ
مِنْكُمْ وَاِذْ زَاغَتِ الْاَبْصَارُ وَبَلَغَتِ الْقُلُوْبُ الْحَنَاجِرَ وَتَظُنُّوْنَ بِاللّٰهِ الظُّنُوْنَا ۞ هُنَالِكَ ابْتُلِيَ الْمُؤْمِنُوْنَ

عذاب درد ناك (٨)اے ایمان والو یادوئے نعمت دَ اللّٰه تعالیٰ په تاسو باندے کله چه راغلے تاسوته لښکرے نو راولیږله مونږ په دوی باندے سیلئے او لښکرے (دَملائکو) چه تاسو نه لیدلے او دے اللّٰه تعالیٰ ستاسو عملونو لره لیدونکے (٩) هرکله چه دوی را غلل تاسو ته د بره طرف ستاسونه او دَ کوز طرف ستاسو نه او کله چه کړے شوے سترګے او اورسیدل زړونه غټو مروته او ګمانونه کول تاسو په اللّٰه تعالیٰ باندے ګمانونه (١٠) دغه وخت ازمیښت اوکړے شو په مؤمنانو باندے

دے ایت کښ دَ هغے سبب ذکرکوی یعنی دا نبی داعی دے اوداعی لره پکار دی چه شفقت کوی پشان دَپلارپه اولاد باندے ﴿مِيْثَاقًا﴾ دَ دے نه مراد میثاق دے دَ دعوت اوتبلیغ توحید ته اوتصدیق کولودَ یوبل ته۔

[٩] دَ دے ایت نه تر(٢٨) پورے دویم باب دے په دے کښ دوه خطابات دی مؤمنانوته په (٢١،٩)کښ اوپه مینځ کښ تقابل دَحال دَمؤمنانواومنافقانودے اودَمنافقانو خوارلس قبائح ذکرکوی۔ اوبشارتونه دی مؤمنانوته په نصرت اوغلیے سره په غزوه خندق اوغزوه بنی قریظه کښ۔ په دے (٩)کښ دریم خطاب دے مؤمنانوته حاصل ئے دا دے چه دَ دے نبی صلی اللّٰه ﷺ اطاعت اوادب په دے وجے سره کوئے چه دَ دهٗ دَ اطاعت په سبب اللّٰه تعالیٰ تاسو سره امداد کړے دے او دَ منافقانو اطاعت دَ دے وجے نه مه کوئے چه هغوی په غزوه خندق کښ ستاسو ملګرتیا پریخودلے وه په دے ایاتونو کښ غزوه خندق چه هغے ته غزوهٗ احزاب هم وئیلے کیږی ذکر کوی په څلورم کال دَهجرت کښ قریش اوغطفان او یهود بنوقریظه ټولوپه یوځل په مدینه منوره باندے دَحملے کولوعزم اوکړو نونبی ﷺ دَ مدینے دَ بچ کولودپاره دَ سلمان فارسی ﷺ په رأی سره دَ صحابوپه ملګرتیا کښ خندق اوکنستلو اوپه هغے کښ دَ ډیرو معجزاتواظهار هم شوینے۔ او مسلمانان هم تقریباً درے زره لښکر وؤاو یومیاشت تیره شوه چه جنګ دَ دوی په مینځ کښ اونشوبلکه کله کله ویشتل دَ غشو اوکانړو کیدل۔ اخرکار اللّٰه تعالیٰ په هغوی باندے سیلئے دَ صبارا اولیږله چه دَ هغوی خیمے ئے را اویستلے او دَ هغوی اورونه ئے مړه کړل اوکټوئے ورله اوغورځولے او ملائك هم را اولیږل شول چه هغوی دَ تکبیرونو اوازونه دَ دوی په خوا کښ کول او دَ دوی مخونه ئے واړول نو بغیرد جنګ نه کافران اوتختیدل اوسامانونه ترینه پاتے شول۔

[١٠] په دے ایت کښ هیبت اوسختی دَ هغه وخت ذکرکوی چه بنوغطفان دَ مدینے دَ اوچت طرف نه راغلل یعنی دَ مشرق دَطرف نه اوقریش دَمدینے دَکوز طرف نه یعنی دَمغرب نه راغلل ﴿الظُّنُوْنَا﴾ مختلف ګمانونه، دَ مؤمنانو ګمان دا وؤچه اللّٰه تعالیٰ خپله وعده دَغلبے دَ دین پوره کوی لیکن په مونږباندے امتحان کوی اویریدل دَبے صبرئے نه اومنافقانو ګمانونه کول چه دا رسول حق نه دے ځکه پرے دومره زیات مصیبت راغے او اللّٰه تعالیٰ ورسره امداد نه کوی۔

وَزُلْزِلُوْا زِلْزَالًا شَدِيْدًا ﴿١١﴾ وَاِذْ يَقُوْلُ الْمُنٰفِقُوْنَ وَالَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ مَّا وَعَدَنَا اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗٓ اِلَّا غُرُوْرًا ﴿١٢﴾ وَاِذْ قَالَتْ طَّآئِفَةٌ مِّنْهُمْ يٰٓاَهْلَ يَثْرِبَ لَا مُقَامَ لَكُمْ فَارْجِعُوْا ۚ وَيَسْتَاْذِنُ فَرِيْقٌ مِّنْهُمُ النَّبِيَّ يَقُوْلُوْنَ اِنَّ بُيُوْتَنَا عَوْرَةٌ ۛ وَمَا هِيَ بِعَوْرَةٍ ۚ اِنْ يُّرِيْدُوْنَ اِلَّا فِرَارًا ﴿١٣﴾ وَلَوْ دُخِلَتْ عَلَيْهِمْ مِّنْ اَقْطَارِهَا ثُمَّ سُئِلُوا الْفِتْنَةَ لَاٰتَوْهَا وَمَا تَلَبَّثُوْا بِهَآ اِلَّا يَسِيْرًا ﴿١٤﴾ وَلَقَدْ كَانُوْا عَاهَدُوا

او اوچرقولے شول په چرقولو سختو سره (۱۱) او کوم وخت چه وئیل منافقانو سړو او هغه کسانو چه په زړونو دَ هغوی کښ شك وؤ چه وعده نه ده کړے مونږ سره اللّٰه تعالیٰ او رسول دَهغه مګر دهوکه (۱۲) اوکوم وخت چه اُوئیل یو ډلے دَ دوی نه اے یثرب (مدینے) والو نیشته طاقت ستاسو نو واپس شئے او اجازت غوختلو یو ډلے دَدوی نه دَ نبی(ﷺ) نه دوی وئیل یقیناً کورونه زمونږ خالی دی اونه دی هغه خالی دوی نه غواړی مګر تختیدل (۱۳) اوکه چرے داخل کړیشی لښکرے په دوی باندے دَ ټولو طرفونو دَ مدینے نه بیا اوغوختلے شی دَ دوی نه شرك ضرور اوبه کړی دوی هغه او حصار به نشی په دے کښ مګرلږ (۱٤) او یقیناً دوی وعده کړے وه

[۱۱] داهم اشاره ده سخت والی دَ دغه حالت ته لیکن داسے سختے دَ مؤمنانو مخلصانو دَ پاره ابتلاء وی عذاب نه وی او ابتلاء سبب دَ اوچتوالی دَ درجو دے ـ او دَ ابتلاء اثرپه زړه باندے او په باطنی قوتونو باندے وی۔ او دَ زلزال اثر په ظاهری اندامونو باندے وی لیکن په دواړو حالتونوکښ مؤمن ثابت قدم وی اوخپل دین نه بل طرف ته انتقال نه کوی۔

[۱۲] دا بیان دَحال دَ منافقانودے په دغه واقعه دَ احزاب کښ او هغوی ته زجرونه دی او دَ هغوی صفات قبیحه دی ﴿اِلَّا غُرُوْرًا﴾ یعنی په وعده دَ نصرت اوفتح سره ئے مونږ دَ دین دَ مشرانونه په دوکه سره را اویستلو اوس مونږسره امدادنه کوی اوداکلمه دَکفر ده دا دَ منافق اول قبیح صفت دے۔

[۱۳] په دے ایت کښ زجردے منافقینوته اودَ هغوی دوه ډلے ذکرکوی۔ اوله ډله چه خلق ئے دَ قتال فی سبیل اللّٰه نه واپس کول اودویمه ډله چه پخپله دَ جهادنه په دروغوعذرونوسره پاتے کیدل ﴿یَثْرِبَ﴾ دَ جاهلیت په وخت کښ مدینے ته یثرب وئیلے کیدلوځکه چه دَ دے اب هوا خرابه وه اوپکښ مرضونه وؤ او ثراب ملامتیا اوخفګان ته وئیلے کیږی نو رسول اللّٰه(ﷺ) دَ دے دپاره دُعا او غوښتله چه یا اللّٰه تعالیٰ دَدے نه تبے او مرضونه جحفے ته نقل کړے (هغه وخت جحفه کښ یهودیان اوسیدل) او دے ته ئے مدینه اوطابة نوم کیخودلو اوبعض روایاتو کښ راغلی دی چه نبی(ﷺ) دَ یثرب نوم اخستل دَ مدینے نه منع اوکړله لیکن منافقانو دَ نبی(ﷺ) خلاف کوؤ دَ دے وجے نه یثرب لفظ ئے استعمالوؤ۔ او بعض مفسرینو وئیلی دی چه دا بنار اول چه کوم سړی اباد کړے وؤ دَ عمالقه نه وؤ اونوم ئے یثرب بن عمیل وؤ دَ دے وجے نه دَ دے نوم ئے یثرب کیخودلے وؤ ﴿عَوْرَةٌ﴾ عور عیب او نقصان ته وئیلے کیږی یعنی محفوظ نه دی دروازے ئے نیشته یا دیوالونه ئے کوز دی نو دُشمن ورته په اسانه سره داخلیدلے شی یا خالی دی دَ حفاظت کوؤنکونه۔

[۱٤] داهم زجر دے منافقانوته او دَ دوی دوه قباحتونه ئے ذکرکړی دی اشاره ده لکه چه دوی دَ میدان جهادنه تختیدلوته تیار دی داسے دوی دَ دین توحید نه واپس کیدلوته هم تیاردی﴿اَلْفِتْنَةَ﴾ دَ دے نه

اللّٰهَ مِنْ قَبْلُ لَا يُوَلُّوْنَ الْاَدْبَارَ ۭ وَكَانَ عَهْدُ اللّٰهِ مَسْـُٔوْلًا ﴿١٥﴾ قُلْ لَّنْ يَّنْفَعَكُمُ الْفِرَارُ اِنْ فَرَرْتُمْ مِّنَ
الْمَوْتِ اَوِ الْقَتْلِ وَاِذًا لَّا تُمَتَّعُوْنَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿١٦﴾ قُلْ مَنْ ذَا الَّذِيْ يَعْصِمُكُمْ مِّنَ اللّٰهِ اِنْ اَرَادَ بِكُمْ
سُوْۗءًا اَوْ اَرَادَ بِكُمْ رَحْمَةً ۭ وَلَا يَجِدُوْنَ لَهُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ﴿١٧﴾ قَدْ يَعْلَمُ اللّٰهُ
الْمُعَوِّقِيْنَ مِنْكُمْ وَالْقَاۗىِٕلِيْنَ لِاِخْوَانِهِمْ هَلُمَّ اِلَيْنَا ۚ وَلَا يَاْتُوْنَ الْبَاْسَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿١٨﴾ اَشِحَّةً
عَلَيْكُمْ ۚ فَاِذَا جَاۗءَ الْخَوْفُ رَاَيْتَهُمْ يَنْظُرُوْنَ اِلَيْكَ تَدُوْرُ اَعْيُنُهُمْ كَالَّذِيْ يُغْشٰى عَلَيْهِ مِنَ الْمَوْتِ ۚ فَاِذَا

دَ اللّٰه تعالیٰ سره دَ دے نه مخکښ چه نه به ګرځوی شاګانے او ده وعده دَ اللّٰه تعالیٰ تپوسلے شوے (١٥) ته اُوایه چرے نفع به درنکړی تاسوته تختیدل که چرے تیخته کوئ تاسو دَ مرګ یا دَ وژلونه او دغه وخت مزے به درنکړے شی مګر لږ وخت (١٦) ته اُوایه څوك دے چه تاسو به بچ کړی دَ اللّٰه تعالیٰ نه که چرے اوغواړی په تاسو باندے مصیبت یا اوغواړی په تاسو باندے رحمت (نو څوك به ئے بندکړی) او اوبه نه مومی دوی ځان لره سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه بچ کوؤنکے اونه امدادی (١٧) یقیناً پیژنی اللّٰه تعالیٰ منع کوؤنکی (دَجهاد نه) ستاسونه او وینا کوؤنکی رونړو خپلوته چه راشئے مونږ ته اونه راځی دوی جنګ کولو ته مګر لږ (١٨) بخل کوؤنکی دی په تاسو باندے نو کله چه راشی ویره وینے ته دوی لره ګوری به تاته اوړی را اوړی سترګے دَ دوی پشان دَ هغه چاچه بے هوشی ورَباندے راوستلے شی دَ مرګ دَوجے نه نوکله چه

مراد شرك كول یا دَ مؤمنانو په مقابله کښ جنګ کول دی ﴿بِهَآ﴾ مراد ترینه اجابت دَ فتنے دے یعنی په قبلولودَ فتنه کښ دوی حصاریدل نه کوی بلکه زرئے قبلوی یا مراد دادے چه روستودَ فتنے قبلولونه به په مدینه کښ حصارنشی بلکه په عذاب باندے به زرهلاك شی۔

[١٥] په دے ایت کښ هم زجر دے منافقانوته اویو قباحت ئے (نقض عهد) ذکر کړے دے۔

[١٦] په دے کښ هم زجراو تخویف دے منافقانوته دَ هغوی په بے لوظئی باندے چه هغه شاګرځول یعنی تختیدل دی۔

[١٧] داهم زجردے یعنی که څوك اُوائي چه ډیرکرته انسان اوتختی نودَ مرګ اوقتل نه بچ پاتے شی نوپه دے ایت کښ جواب ورکوی چه که چرے اللّٰه تعالیٰ دَ دے انسان بل تکلیف او مصیبت او غواړی نو هیڅوك ئے نشی بچ کولے ۔ او په ایت کښ رد دَ شرك فی التصرف دے چه هیڅ ولی بزرګ وغیره مالك دَ نفع اودَ ضررنه دے۔

[١٨] په دے ایت کښ زجردے منافقانوته اودَ هغوی درے قباحتونه ئے ذکرکړی دی۔ مخکښ ذکرشوه چه تیخته کوی دَ جهادنه اوس ذکرکوی چه نورو خلقولره منع کوی ﴿اِلَّا قَلِيْلًا﴾ مراد دَ دے نه دَ ریاء اودُنیوی مقصد دپاره جنګ ته راتلل دی اوپه دے کښ اشاره ده چه کوم عبادت چه په غلط نیّت سره وی نوکه ډیروی نوهم دَ اللّٰه تعالیٰ په نیزلګ دے۔

ذَهَبَ الْخَوْفُ سَلَقُوْكُمْ بِاَلْسِنَةٍ حِدَادٍ اَشِحَّةً عَلَى الْخَيْرِ ؕ اُولٰٓئِكَ لَمْ يُؤْمِنُوْا فَاَحْبَطَ اللّٰهُ اَعْمَالَهُمْ ؕ
وَكَانَ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرًا ﴿۱۹﴾ يَحْسَبُوْنَ الْاَحْزَابَ لَمْ يَذْهَبُوْا ۚ وَاِنْ يَّاْتِ الْاَحْزَابُ يَوَدُّوْا لَوْ اَنَّهُمْ
بَادُوْنَ فِى الْاَعْرَابِ يَسْاَلُوْنَ عَنْ اَنْۢبَآئِكُمْ ؕ وَلَوْ كَانُوْا فِيْكُمْ مَّا قٰتَلُوْٓا اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۲۰﴾ لَقَدْ كَانَ لَكُمْ
فِىْ رَسُوْلِ اللّٰهِ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَنْ كَانَ يَرْجُوا اللّٰهَ وَالْيَوْمَ الْاٰخِرَ وَذَكَرَ اللّٰهَ كَثِيْرًا ﴿۲۱﴾ وَلَمَّا رَاَ الْمُؤْمِنُوْنَ

لاړه شی ویره نو تکلیف درکوی تاسوته په تیزو ژبو سره حرص کوؤنکی دی په مال باندے دغه کسانو ایمان نه دے راوړے نو برباد کړل اللّٰه تعالیٰ عملونه دَ دوی او دے دا کار په اللّٰه تعالیٰ باندے اسان (۱۹) ګمان کوی دوی په ډلو دَ کافرانو باندے چه هغوی نه دی تلی او که چرے راشی دغه ډلے نو غواړی (دامنافقان) چه ارمان دے چه دوی دیره وے په بانډو کښ تپوسونه ئے کولے ستاسو دَ خبرونو نه او که چرے وے دوی په تاسو کښ نو جنګ به نه وؤ کړے دوی مګر لږ (۲۰) یقیناً شته دے ستاسو دپاره په باره دَ رسول اللّٰه(ﷺ) کښ نمونه دَ تابعداریٔ خائسته هغه چاله چه عقیده لری دَ اللّٰه تعالیٰ (دَ توحید) او دَ ورځ روستنئے او یادوی اللّٰه تعالیٰ لره ډیر(۲۱) اوهرکله چه اولیدلے مؤمنانو

[۱۹] په دے ایت کښ دَ منافقانونورپنځه قبائح ذکرکوی﴿اَشِحَّةً﴾ جمع دَشحیح ده۔ بخل اوحرص ته وائی﴿فَاِذَا جَآءَ الْخَوْفُ﴾ په دے کښ دَدوی بزدلئے ته اشاره ده مراد (الخوف) نه خبرد قتال اودَ حملے کولودَ دُشمنانودے﴿سَلَقُوْكُمْ﴾ مراد دا دے چه تیزے اودَ چالاکئے خبرے کوی چه مونږتاسوسره شریك وؤنومونږ له په غنیمت کښ حصّه راکړئے ﴿اَشِحَّةً﴾ داپه معنیٰ دَ حرص دے یعنی حرص کوؤنکی دی په حاصلولو دَمال باندے۔

[۲۰] داهم زجردے اوپه دے ایت کښ دَ دوی درے قبائح ذکرکوی اوپه دیکښ هم اشاره ده بزدلئے دَ دوی ته یعنی که دوی ته اُوئیلے شی چه دُشمنان لاړل نو دوی دَ ډیرے ږے دَ وجے نه دانه منی۔

[۲۱] دا څلورم خطاب دے مؤمنانوته اوتاکید دے په تابعدارئے دَ نبی ﷺ باندے اورد دے په منافقانو باندے چه هغوی په جهادکښ شرکت نه کوؤاوچاچه شرکت کوؤهم په اخلاص سره نه وؤنوپه دے کښ رد دَ هغوی دے چه نبی ﷺ په جهادکښ شرکت په اخلاص سره کوی دَ هغه تابعداری اوکړئے په دے ایت کښ په اتباع دَ رسول اللّٰه ﷺ ډیرتاکیدات دی ﴿اُسْوَةٌ﴾ دا لفظ خاص دے په هغه اقتدا پورے چه په هغے کښ برابری وی یعنی پوره تابعداری کوی او په هغے کښ دَ زړه علاج اوتسلّی هم ده ﴿ذَكَرَاللّٰهَ كَثِيْرًا﴾ مراد دَ ذکرنه تمام عبادات دی ځکه چه ذکردَ ټولوعبادتونونه افضل عبادت دے ۔ او كَثِيْرًا، دَ دے نه مراد ذکر دے په شرعی شرطونو سره چه په طریقه دَ اخلاص اوپه تابعدارئے دَ سنّت سره او سرهٔ دَ فهم دَ معنے سره وی داسے ذکر اګرچه لګ وی لیکن دَ اللّٰه تعالیٰ په نیز ډیر دے نوکوم ذکر چه دَ بدعت په طریقے سره وی لکه په چغو سره ذکر کول او دَ ځان نه تخصیص کول دَ وخت او دَ حد دَ هغے یا ذکر مفرد(یعنی صرف اللّٰه اللّٰه) یا چه په معنیٰ باندے نه پوهیږی نو دا ذکر غیر مقبول دے لکه چه بعضِ تشریح تفسیر روح المعانی کښ دَ(٤١) ایت دَ لاندے کړے ده نو حاصل دَ ایت دَ لِمَنْ كَانَ يَرْجُوا اه، نه دا دے چه څوك ایمان په اللّٰه تعالیٰ اوپه ورځ دَ اخرت لری اوعمل دَ اللّٰه تعالیٰ دپاره کوی نو دَ دے رسول تابعداری او اقتداء دِ کوی۔ او

الْاَحْزَابَ ۙ قَالُوْا هٰذَا مَا وَعَدَنَا اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ وَصَدَقَ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ ۫ وَمَا زَادَهُمْ اِلَّاۤ اِيْمَانًا
وَّتَسْلِيْمًا ﴿٢٢﴾ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ رِجَالٌ صَدَقُوْا مَا عَاهَدُوا اللّٰهَ عَلَيْهِ ۚ فَمِنْهُمْ مَّنْ قَضٰى نَحْبَهٗ وَ
مِنْهُمْ مَّنْ يَّنْتَظِرُ ۖ وَمَا بَدَّلُوْا تَبْدِيْلًا ﴿٢٣﴾ لِّيَجْزِيَ اللّٰهُ الصّٰدِقِيْنَ بِصِدْقِهِمْ وَيُعَذِّبَ الْمُنٰفِقِيْنَ اِنْ
شَآءَ اَوْ يَتُوْبَ عَلَيْهِمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿٢٤﴾ وَرَدَّ اللّٰهُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِغَيْظِهِمْ لَمْ يَنَالُوْا خَيْرًا ۭ

دلے دَ کافرانو دوی اُوئیل دا هغه څیزدے چه وعده کړیده مونږ سره الله تعالی او رسول دَ هغه او رشتیا وئیلی دی الله تعالی او رسول دَ هغه اونه زیاتوی دوی لره مګر ایمان او تابعداری کول (۲۲) بعضِ دَ مؤمنانو نه سړی دی چه پوره کړے ده هغه وعده چه کړیده دَالله تعالی سره نو بعض دَ دوی نه هغه دی چه پوره ئے کړو حاجت خپل او بعض هغه دی چه انتظار کوی او دوی نه دے بدل کړے (دین دَ الله تعالی) په هیڅ بدلولو(۲۳) دَ دے دپاره چه بدله ورکړی الله تعالی رشتینو خلقو ته په سبب دَ رشتیاؤ دَ هغوی او عذاب ورکړی منافقانو ته که چرے اوغواړی یا توفیق دَ توبے به ورکړی هغوی ته یقیناً الله تعالی دے بخنه کوؤنکے رحم کوؤنکے (۲٤) او واپس کړل الله تعالی کافرانو لره سره دَ غصے دَ هغوی نه چه نه ئے وه حاصل کړے هیڅ فائِده

دَ ذکر په لفظ سره ئے دَ دے وجے نه راوړو چه څوك ذاکروی نودَ هغه زړه بیداروی نو دَ دے وجے نه تابعدارئ دَ رسول الله ﷺ ته تیاروی اوځوك چه غافل وی نو هغهٔ په تابعدارئے کښ سست وی۔

[۲۲] دا ذکردَحال دَ تثبت دَ مؤمنانو دے په مقابله دَ حال دَ منافقانو کښ اوپه دے کښ دَ مؤمنانودے صفات دی ﴿وَمَازَادَهُمْ﴾ په دے کښ اشاره ده چه دا قول دَ مؤمنانو صرف دَ ژبے نه نه دے پشان دَ منافقانو بلکه په زړه او په اندامونو باندے دَ هغے اثر موجود دے ۔ او ایت دلیل دے چه په ذکر کولو سره ایمان کښ زیاتے او مضبوط والے راځی۔

[۲۳] دا دَمؤمنانوځلور صفات دی اولاًدا صفتونه دَ صحابه کرامودی بیا چه څوك دَ هغوی۔ تابعداروی ﴿فَمِنْهُمْ مَّنْ قَضٰى نَحْبَهٗ﴾ نحب نذرته وائی اومراد ترینه مرګ دَ شهادت دے او موت ته ئے دَ دے وجے نه نذر اُوئیل چه هغه صحابه کرامو دا شهادت په ځان باندے نذرملے وؤیا دَ دے وجے نه چه مرګ په هرنفس باندے داسے لازم دے لکه نذر چه لازم وی۔ یا داچه نحب اجل دَ موت ته وئیلے کیږی یا قضیٰ نحبه نه مراد کوشش صرف کول دی دَ عهد په وفاکولو کښ او مصداق دَ دے په صحابه کرامو کښ حمزه اومصعب او انس بن نضر ﷺ دی اونورو شهیدانو دَبدراواُحدنه هم شامل دے ﴿وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّنْتَظِرُ﴾ مراد داچه دوی کوشش کوی دَمرګ دَشهادت په حصول کښ لکه باقی صحابه کرام شول ﴿وَمَابَدَّلُوْا تَبْدِيْلاً﴾ داجمله عامه ده عهد اوټول دین دَرسول الله ﷺ ته شامله ده۔معلومه شوه چه کوم صحابه کرام وونوهغوی دَ رسول الله ﷺ په دین کښ هیڅ بدعت نه دے جوړ کړے اودین دَهغه ئے نه دے پریخودلے او کم چه مرتد دی نوهغه(په تعریف شرعی) کښ صحابه نه دی۔

[۲٤] دا متعلق دے په مخکښ ذکرکړے شوی عملونودَ صحابه کرامو پورے اوخصوصاً وَمَا بَدَّلُوا، پورے۔

وَكَفَى اللّٰهُ الْمُؤْمِنِيْنَ الْقِتَالَ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ قَوِيًّا عَزِيْزًا ۝۲۵ وَاَنْزَلَ الَّذِيْنَ ظَاهَرُوْهُمْ مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ
مِنْ صَيَاصِيْهِمْ وَقَذَفَ فِيْ قُلُوْبِهِمُ الرُّعْبَ فَرِيْقًا تَقْتُلُوْنَ وَتَاْسِرُوْنَ فَرِيْقًا ۝۲۶ وَاَوْرَثَكُمْ اَرْضَهُمْ وَ
دِيَارَهُمْ وَاَمْوَالَهُمْ وَاَرْضًا لَّمْ تَطَــُٔوْهَا ۭ وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرًا ۝۲۷ يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِّاَزْوَاجِكَ ع ۱۹
اِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا وَزِيْنَتَهَا فَتَعَالَيْنَ اُمَتِّعْكُنَّ وَاُسَرِّحْكُنَّ سَرَاحًا جَمِيْلًا ۝۲۸ وَاِنْ كُنْتُنَّ

اوبیج کړه الله تعالیٰ مؤمنانو لره دَ جنګ کولو نه او الله تعالیٰ دے قوت والا زورآور (۲۵) او راکوز ئے کړل هغه کسان چه مدد ئے دَ هغوی سره کړے وؤ دَ کتابیانو نه دَ قلعه ګانو دَ هغوی نه او واچوؤ په زړونو دَ هغوی کښ هیبت یو ډله تاسو وژله او قید کوله تاسو بله ډله (۲۶) او درکړے ده تاسونه زمکه دَ هغوی او کور رونه دَهغوی او مالونو د هغوی (او دربه کړی) داسے زمکه چه تاسو قدم نه دے ایخودلے په هغے باندے او الله تعالیٰ دے په هر څیز باندے قدرت والا (۲۷) اے نبی اُوایه خپلو بیبیانو ته که چرے تاسو غواړئ ژوند دُنیوی اوخائست دَ هغے نو راشئے چه سامان درکړم او رخصت کړم تاسو لره په رخصتئے خائسته سره (۲۸) او که چرے تاسو

[۲۵] دا بیان دَجزاءِ دُنیوی دے مؤمنانولره یعنی دَ دوی دَصدق دَوجے احزاب دَکافرانوبغیرَ مقصده واپس شول ﴿خَيْرًا﴾ یعنی خیرَ دنیا او اخرت ئے حاصل نه کړو ﴿وَكَفَى اللّٰهُ الْمُؤْمِنِيْنَ الْقِتَالَ﴾ یعنی سیلئے او ملائك په کافرانو باندے راغلل نو هغوی ئے او زغلول او قتال کولو دَ مؤمنانو ته څه حاجت پاتے نشو۔

[۲۶] داهم په جزاکښ داخل دے چه الله تعالیٰ دَ مؤمنانو سره امداد اوکړو په غزوه دَ بنی قریظه کښ هرکله چه بنوقریظه دَنبیﷺ سره لوظ مات کړواودَ نورو کافرانوسره ئے په غزوه خندق کښ ملګرتیا اوکړه، نونبیﷺ ته حکم راغے چه دَ بنوقریظه سره جنګ دپاره لاړشه هغوی دَ یرے نه په خپلو قلعه ګانو کښ پټ شول او مؤمنانو دَ دوی پنځویش ورځے محاصره اوکړه اخردوی تنګ شول او رضاشول په فیصله دَ سعد بن معاذؓ باندے نوهغه فیصله اوکړه چه ځوانان دِ قتل کړے شی، اوبچی اوښځے دِ قیدکړے شی او نبیﷺ دَ دهٔ دَ فیصلے تائید اوکړونو په هغه فیصله باندے عمل اوکړے شو۔

[۲۷] داهم په جزاکښ داخل دے۔ یعنی تیرشوی ایت کښ غلبه په نفسونودَکتابیانوکافرانوباندے ذکرکړے شوه نوپه دے ایت کښ غلبه دَهغوی په مالونوباندے ذکرکوی۔ اومراد دَ دینه غنیمتونه دَ بنوقریظه دی ﴿وَاَرْضًا لَّمْ تَطَــُٔوْهَا﴾ مراد دَ دینه وعده ده دَغنائمودَ خیبریا دَټولوغنیمتونودَ مسلمانانو چه ترقیامته پورے وی اوداسے په سورهٔ فتح (۲۰) کښ هم دی۔

[۲۸] دَ دے ایت نه تر(٤١) پورے دریم باب دے په دے کښ درے خطابات نبیﷺ ته ذکرکوی (۲۸، ۳۷، ۳۸) اوځلور خطابات عاموم‌ؤمنانوته په (٣٦، ٤٠)کښ اوذکرَ بشارت دے په ذکرَ لس صفتونوسره په (۳۵)کښ۔ په دے (۲۸)کښ نهم خطاب دے نبیﷺ ته۔ اومراد دے نه دادے که بیبیانے دَ دعوت دَ دین په کارکښ مانع جوړیګی نودَ هغوی پریخودل ضروری دی لیکن دعوت دَحق به نه پریخودلے کیږی۔ اودیته ایت دَ تخییر وئیلے کیږی یعنی ښځے ته اختیارورکول چه دَ خاوندنه جدائي غواړے اوکه نه غواړے ستا اختیاردے نوپه دے کښ قول صحیح دا دے چه په دے سره هیڅ طلاق نه واقع

تُرِدْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَالدَّارَ الْاٰخِرَةَ فَاِنَّ اللّٰهَ اَعَدَّ لِلْمُحْسِنٰتِ مِنْكُنَّ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿۲۹﴾ يٰنِسَآءَ النَّبِيِّ
مَنْ يَّاْتِ مِنْكُنَّ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ يُّضٰعَفْ لَهَا الْعَذَابُ ضِعْفَيْنِ ؕ وَكَانَ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرًا ﴿۳۰﴾

غواړئ اللّٰه تعالیٰ لره او رسول دَ هغه لره او کور روستنے نو یقیناً اللّٰه تعالیٰ تیار کړیدے خائسته عمل کوؤنکو لره چه تاسو ئیے ثواب لوے (۲۹) اے بیبیانو دَ نبی(ﷺ) چاچه راتلل او کړه ستاسو نه په بدئے بنکاره سره دو چند به ورکیدے شی هغے ته عذاب دوچند او دے داکار په اللّٰه تعالیٰ باندے اسان (۳۰)

کیږی هاں که په جواب کښ اُوائي چه ماځان غوره کړے یعنی جدائي مِ خوښه ده نوپه دے کښ اختلاف دے دَسلف صالحینو چه څهٔ رنګ طلاق واقع کیږی۔ اودَدے ایت دَ نزول سبب داوو چه هرکله نبی ﷺ دَ زینب رضی اللّٰه عنها سره نکاح اوکړه دپاره دَ دے چه رسم دَ جاهلیت ختم شی په باره دَ تحریم دَ بنځے دَ متبنّیٰ کښ نونورے بیبیانے دَ غیرت دَ بنتوب دَ وجے نه(چه دا طبعی امردے) نبی ﷺ ته راجمع شوے او دَ دیرے نفقے مطالبه ئیے شروع کړله نو نبی ﷺ ترینه خفه شو او اُوئیل ئیے چه ځه به یوه میاشت تاسوته نه نیزدے کیږم اوپه دغه ورځو کښ نبی ﷺ دَ سورلے نه راغورځیدلے وؤنواړخ ئیے زخمی شویوؤ اوخپه ئیے اوړیدلے وه نو په بالاخانه کښ ځان له اوسیدلو، هرکله چه دا ایت دَ تخییرنازل شو اومیاشت دَ یو کم دیرشو ورځو پوره شوه نو نبی ﷺ دَ بالاخانے نه راکوزشو اودا ایاتونه ئیے بیبیانوته پیش کړل نو هغوی په جواب کښ اُوئیل چه مونږ اللّٰه تعالیٰ او رسول او اخرت خوخوؤ دَ دے په باره کښ احادیث صحیحه راغلی دی ﴿الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا﴾ مراد دے نه ترقی دَ دنیاده په اعتباردَ دیرے نفقے او مالونوسره ﴿وَزِيْنَتَهَا﴾ مراد دَ دے نه خائسته لباس اوکالی وغیره دی۔

[۲۹] دا دَتخییردویم طرف دے تُرِدْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ، مراد دَ دے نه رضا اوطاعت کول دَ دے دواړودی۔ ﴿وَالدَّارَ الْاٰخِرَةَ﴾ مراد دَ دے نه جنت دے چه په طاعت دَ اللّٰه تعالیٰ او دَ رسول اللّٰه ﷺ سره حاصلیږی ﴿مِنْكُنَّ﴾ من بیانیه دے مراد ترینه ټولے بیبیانے دَ پیغمبردی لیکن دَ دوی دَ تخویف دَپاره ئیے مِن ذکرکړے دے اوهرکله چه داحکم دَ امت نورو بیبیانوته هم شامل دے او دَ نبی ﷺ بیبیانے دَ هغوی نه بعض دی نو دَ دے وجے نه ئیے هم مِن ذکر کړے دے۔

[۳۰] داخطاب دے بیبیانودَ نبی ﷺ ته (اوپنځم خطاب دے امت دے) هرکله چه دوی اللّٰه تعالیٰ او رسول اللّٰه ﷺ اوجنّت لره غوره کړونواوس دوی ته هغه امورذکرکوی چه په هغے باندے دَ عمل کولوپه سبب سره رضادَاللّٰه تعالیٰ اودَ رسول اللّٰه ﷺ اوجنّت حاصلیږی ﴿مُّبَيِّنَةٍ﴾ یعنی دَ هغے ناکاره والے شرعاً اوعقلاً دواړه بنکاره وی هیڅ احتمال دَ جواز په کښ نه وی ﴿ضِعْفَيْنِ﴾ لفظ دَضعف هم دلالت کوی په دوچند کیدلوباندے لیکن تثنیة دَ تکرار دَ تاکید دپاره ده اشاره ده چه دَچامرتبه اوچته وی نودَ هغه جرم هم اوچت شمیر کیږی اوعتاب او عذاب ئیے هم زیات وی۔

وَمَنْ يَّقْنُتْ مِنْكُنَّ لِلّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَتَعْمَلْ صَالِحًا نُّؤْتِهَآ اَجْرَهَا مَرَّتَيْنِ ۙ وَاَعْتَدْنَا لَهَا رِزْقًا كَرِيْمًا ﴿۳۱﴾
يٰنِسَآءَ النَّبِيِّ لَسْتُنَّ كَاَحَدٍ مِّنَ النِّسَآءِ اِنِ اتَّقَيْتُنَّ فَلَا تَخْضَعْنَ بِالْقَوْلِ فَيَطْمَعَ الَّذِيْ فِيْ قَلْبِهٖ مَرَضٌ
وَّقُلْنَ قَوْلًا مَّعْرُوْفًا ﴿۳۲﴾ وَقَرْنَ فِيْ بُيُوْتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْاُوْلٰى وَاَقِمْنَ الصَّلٰوةَ
وَاٰتِيْنَ الزَّكٰوةَ وَاَطِعْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ۭ اِنَّمَا يُرِيْدُ اللّٰهُ لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ اَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ

اوچاچه تابعداری کوله ستاسونه دَ اللّٰه تعالیٰ او دَ رسول دَ هغه او عمل ئیے کوؤ دَ سنت موافق نو ورکوو مونږ هغے ته ثواب دَ هغے دوچند او تیار کړے ده مونږ هغے لره روزی عزت والا (۳۱) اے بیبیانو دَ نبی(ﷺ) نه ئیے تاسو پشان دَهیڅا دَ نورو زنانوؤنه که چرے تاسو تقویٰ لرئے نو جوئیل دَ خبرے مه کوئ نو طمع به اوکړی هغه څوك په زړه دَ هغه کښ مرض دے او وائیے وینا دَ شرع موافق (۳۲) او اوسئے په کوټو خپلو کښ اومه ښکاره کوئے ډول سنګار پشان دَ جاهلیت زوړ او پابندی کوئے دَ مونځ او ورکوئے زکوٰة او تابعداری کوئے دَ اللّٰه تعالیٰ او دَ رسول دَ هغه یقیناً غواړی اللّٰه تعالیٰ چه لرے کړی ستاسونه پلیتی اے کورنئ دَنبی(ﷺ) او پاك کړی تاسو

[۳۱] دَ زیادت دَ عذاب نه روستو زیادت دَ ثواب دَ هغوی ذکر کوی لیکن په اعتباردَ عمل صالح سره نه په نسب سره اودا بشارت دے ﴿رِزْقًا كَرِيْمًا﴾ مراد دَ دے نه رزق دَجنّت دے په نیزدَ اکثرو مفسرینوځکه چه مراد دَکریم نه بے کړاوه اوفائدے والا چه هیڅ ضرر اونقصان پکښ نه وی اوداسے رزق صرف په جنّت کښ به وی۔ اوبقاعی اوخطیب شربینی رزق دَ دنیا او آخرت دواړه مراد کړی دی او مراد دَکریم نه برکت والادے، اودَ یرزقه من حیث لایحتسب، په طریقه باندے دے۔

[۳۲] دادویم خطاب دے بیبیانوته اوپه دے کښ بیان دَ ادب دَ وینا کولو او دَ خبرو کولو دے ﴿كَاَحَدٍ﴾ لفظ دَ احد ئیے دَ دے وجے نه ذکرکړوچه دا لفظ شامل دے یو، دوه اوجماعت ته او مذکر اومؤنث ته یعنی نه ئیے تاسو پشان دَ هیڅ یوزنانه او نه دَ جماعت دَ زنانو پشان په مرتبه او عزت کښ۔ لیکن شرط دَ فضیلت نسبت نه دے بلکه تقویٰ ده دَ دے وجے نه ئیے اِنِ اتَّقَيْتُنَّ، ذکرکړواومراد دَ تقویٰ نه په دے تیر شوی دوه ایاتونوباندے عمل کول دی ﴿فَلَا تَخْضَعْنَ﴾ دا تفریع ده دَ لوے شان دَ دوی چه مخکښ بیان کړے شویعنی په وینا کښ نازو نزاکت خوږوالے مه پیداکوئے په داسے طریقه چه دَ هغے نه دَ مخاطب (فاسق) سړی په زړه کښ بد اثر پیداشی﴿ مَرَضٌ﴾ مراد دَ دے نه فسق وفجور اومیلان دَ سړی دَ ښځوسره خبرے کول اوشوق دَ مجالست دَ هغوی ﴿قَوْلًا مَّعْرُوْفًا﴾ په دے کښ اشاره ده چه دَ مخکښ نهی مطلب دانه دے چه بد اخلاقی اوکنځل اوکړئے بلکه داسے وینا کوئے چه په هغے سره مقصد دینی یا دنیوی معلوم شی او نور بد آثار ترینه پیدانشی۔

تَطْهِيْرًا ﴿٣٣﴾ وَاذْكُرْنَ مَا يُتْلٰى فِيْ بُيُوْتِكُنَّ مِنْ اٰيٰتِ اللّٰهِ وَالْحِكْمَةِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ لَطِيْفًا خَبِيْرًا ﴿٣٤﴾ اِنَّ
الْمُسْلِمِيْنَ وَالْمُسْلِمٰتِ وَالْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ وَالْقٰنِتِيْنَ وَالْقٰنِتٰتِ وَالصّٰدِقِيْنَ وَالصّٰدِقٰتِ وَ
الصّٰبِرِيْنَ وَالصّٰبِرٰتِ وَالْخٰشِعِيْنَ وَالْخٰشِعٰتِ وَالْمُتَصَدِّقِيْنَ وَالْمُتَصَدِّقٰتِ وَالصَّآئِمِيْنَ وَالصّٰٓئِمٰتِ وَ

په پوره پاکوالی سره (۳۳) او یادوئے هغه چه لوستلے کیدیشی په کورونو ستاسو کښ دَ ایاتونو دَ اللّٰه تعالیٰ اوحدیث دَ نبی نه یقیناً اللّٰه تعالیٰ باریك ځیزونه وینی او خبردار دے (۳٤) یقیناً مسلمانان سړی او مسلمانانے زنانه او مؤمنان سړی او مؤمنانے زنانه او تابعداری کوؤنکی سړی او تابعداری کوؤنکی زنانه او رشتیاویونکی سړی او رشتیاویونکی زنانه او صبر کوؤنکی سړی اوصبر کوؤنکی زنانه او عاجزی کوؤنکی سړی او عاجزی کوؤنکی زنانه او صدقه ورکوؤنکی سړی او صدقه ورکوؤنکی زنانه او روژه نیوؤنکی سړی او روژه نیوؤنکی زنانه او

[۳۳] دابل خطاب دے بیبیانوته، مخکښ قولی اداب ذکر وو اوس عملی اداب ذکرکوی ﴿وَقَرْنَ﴾ یعنی قرار اونیسئی په خپلو کورونو کښ، ټینګے شئے په کورونو کښ بغیرد حاجت شرعی دَکورنه بهرمه اوځئے لکه چه حدیث دَ سوده رضی اللّٰه عنها کښ راغلی دی چه هغه نفلی حج اوعمرے دَپاره هم دَکورنه وتلے نه وه اووئیل ئے چه مونږته اللّٰه تعالیٰ فرمائیلی دی(وقرن فی بیوتکن) ﴿وَلَا تَبَرَّجْنَ﴾ تبرج معنیٰ دَخپل زیب وزینت اوکالی بنکاره کول اوپه ګفتاراو رفتارکښ نازبنکاره کول دی ﴿الْجَاهِلِيَّةِ الْأُوْلٰى﴾ دَدے نه مراد یوخاص زمانه نه ده بلکه دَ اسلام نه پرواندے په هرزمانه کښ چه بے دینی تیره شویده هغے ته جاهلیت اولی وئیلے کیږی۔ اودَ اولی په مقابله کښ په حالت دَ اسلام کښ دَجاهلیت طریقے جوړول دادویم جاهلیت دے۔ او تَبَرُّج، دَ جاهلیت اولی دا وؤ چه زنانه به سر اومخ بنکاره کړے وؤ او بازارونو کښ او دَ سړو په پرواندے به ګرځیدله چابه لاسونه اومتے هم بنکاره کړے وے اودَ لارے په مینځ کښ به روانے وے نارینوته به ئے لارنه پریخودله لوپټه به ئے نه اچوله یا به ئے اوګو باندے هسے اویزانه کړے وه اوچه بازار یا ګنړے ته به تلله نوځان به ئے خائسته کړو۔ نوافسوس دے په نن مسلمانانو بنځو باندے چه داټول کارونه دَ جاهلیت ئے شروع کړی دی بلکه دَ هغے نه زیاتے شوی دی اودیته ګناه نه وئیلے کیږی (واللّٰه المستعان والی اللّٰه المشتکی) ﴿لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ﴾ دا لفظ شامل دے باطلے عقیدے اواعمالواواخلاقودَ فسق وفجور اوطریقے دَ منافقت ته هم ځکه چه منافقانوته ئے اِنَّهُمْ رِجْسٌ، توبه(۹۰) کښ وئیلی دی او رجس عذابونودَ دنیا او اخرت ته هم شامل دے ﴿اَهْلَ الْبَيْتِ﴾ دَ لغت په لحاظ سره دَ دے معنیٰ ده لائق دَشے تیرولونواصل مصداق دَ دے بنځه (زوجه) ده لکه سورة هود (۷۳) کښ زوجه دَ ابراهیم علیه السلام مراد ده اودلته اول صرف بیبیانو دَ نبی ﷺ ته خطابات ذکر شویدی نو معلومه شوه چه اهل بیت نه اول بیبیانے مراد دی بیا روستو اولاد وغیره ته شامل دے، ځکه چه دویمه معنیٰ دَ اهل بیت داده چه کورته دَ راتلوحق لری اودا صریح رد دے په شیعه ګانوباندے چه هغوی بیبیانے دَ رسول اللّٰه ﷺ دَ اهل بیت نه خارج ګنړی او دا دَ دوی جهل دے هاں که رسول اللّٰه ﷺ ، حَسن او حُسین او فاطمه اوعلی رضی اللّٰه عنهم ته اهل البیت وئیلی دی نو په دے کښ اشاره وه دیته چه لفظ دَ اهل بیت صرف بیبیانو پورے مه خاص کوئے۔

الْحٰفِظِيْنَ فُرُوْجَهُمْ وَالْحٰفِظٰتِ وَالذّٰكِرِيْنَ اللّٰهَ كَثِيْرًا وَّالذّٰكِرٰتِ ۙ اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ مَّغْفِرَةً وَّاَجْرًا عَظِيْمًا ﴿٣٥﴾
وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَّلَا مُؤْمِنَةٍ اِذَا قَضَى اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗۤ اَمْرًا اَنْ يَّكُوْنَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ اَمْرِهِمْ ؕ وَمَنْ يَّعْصِ
اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًا مُّبِيْنًا ﴿٣٦﴾ وَاِذْ تَقُوْلُ لِلَّذِيْۤ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاَنْعَمْتَ عَلَيْهِ اَمْسِكْ
عَلَيْكَ زَوْجَكَ وَاتَّقِ اللّٰهَ وَتُخْفِيْ فِيْ نَفْسِكَ مَا اللّٰهُ مُبْدِيْهِ وَتَخْشَى النَّاسَ ۚ وَاللّٰهُ اَحَقُّ اَنْ تَخْشٰىهُ ؕ

بچ ساتونکی عورتونو خپلو لره سړی او بچ ساتونکے زنانه او یادوؤنکی اللّٰه تعالیٰ لره سړی ډیر او یادوؤنکے زنانه تیار کړے دے اللّٰه تعالیٰ دَ دوی دپاره بخښش او ثواب لوے(۳۵) اونه دی مناسب مؤمن سړی لره او مؤمنے زنانه لره کله چه فیصله کړیده اللّٰه تعالیٰ او رسول دَ هغه دَ یوخیز دا خبره چه وی دِ دوی لره خوښه خپله په کار دَ دوی کښ او چاچه خلاف اوکړو دَ حکم دَ اللّٰه تعالیٰ او دَرسول دَهغه نه نو یقیناً گمراه شو په گمراهئ ښکاره سره (۳۶) اوکله چه وئیل تا هغه چاته چه نعمت کړیدے اللّٰه تعالیٰ په هغه باندے او نعمت کړیدے تاپه هغه باندے اوساته دَځان سره بی بی خپله او ویره کوه دَ اللّٰه تعالیٰ نه اوپټه ساتله تا په زړه خپل کښ هغه خبره چه اللّٰه تعالیٰ ښکاره کوله او ویره کوله تا دَخلقونه او اللّٰه تعالیٰ ډیر حقدار دے چه دَ هغه نه ویره اوکړے

[۳٤] دا بل خطاب دے بیبیانودَ نبی ﷺ ته اوهرکله چه دَ اعمالو بنا په علم باندے ده او بغیر دَ علم نه عمل غلط وی دَ دے وجے نه په دے کښ دَ علم ترغیب ورکوی۔ او نصاب دَ علم ئے ذکرکړے دے مِنْ اٰيَاتِ اللّٰهِ، چه قرآن کریم دے وَالْحِكْمَةِ، مراد ترینه سنّت اوحدیث دَ نبی ﷺ دے﴿وَاذْكُرْنَ﴾ مراد دَ دے نه لوستل اودرس وتدریس کول دی﴿ فِيْ بُيُوْتِكُنَّ﴾ په دے کښ اشاره ده چه درسگاه دَ زنانه دَ پاره د ننه کمره اوکوټه ده۔

فائده: دَ (۳۲) نه تردے پورے اگر چه خطاب بیبیانودَ نبی ﷺ ته دے لیکن په دے احکاموسره زنانه دَ امت هم طبعاً مکلف دی ځکه چه اعلیٰ ته حکم وی نوهغه ادنیٰ ته هم شامل وی۔

[۳۵] په دے ایت کښ بشارت دے په جمع کولودَ لس صفاتوخائستوسره اوهرکله چه تیرشوی اٰیاتونوکښ احوال دَ بیبیانودَ نبی ﷺ ذکرکړل اوهغوی ته ئے خاص بشارت ذکرکړونوپه دے ایت کښ دَعامونارینواوزنانوصفات اوبشارت ذکر کوی اوپه دے کښ اشاره ده چه داصفتونه په بیبیانودَ نبی ﷺ کښ هم موجود وو۔ دَ بعضے سلفوصالحینونه نقل ده چه کوم اذکاراودعاګانے په سنّت سره په مختلفو اوقاتوکښ ثابت دی په هغے باندے چه څوك همیشګیری کوی نوهغه په الذاکرین اللّٰه کثیراکښ داخل دے۔

فائده: په دے صفتونو کښ درے صفتونه قلبی دی ایمان، قنوت،خشوع، دا عبادات قلبیه دی ۔ او درے عبادات بدنیه ظاهریه دی اسلام (عام دے ټولوعبادتونوته) اوصبراوصوم اوپه دے کښ دوه عبادات لسانیه دی صدق او ذکر، اویوعبادت مالیه دے تصدق کول اویو عبادت دَ ترك المنكرات دے یعنی حفظ الفروج۔

[۳٦] په دے ایت کښ خطاب دے ټولومؤمنانونارینواو زنانوته یعنی دَ اللّٰه تعالیٰ اودَ رسول دَ فیصلے اودَ نص په مقابله کښ خپله یا دَبل چارائے اواختیارمه چلوئے داعصیان اوګمراهی ښکاره ده۔ اودَ مخکښ ایت سره ئے ربط دادے چه تیرشوی صفات هله حاصلیږی چه دَ نص دَ قرآن اوحدیث نه خلاف

فَلَمَّا قَضٰى زَيْدٌ مِّنْهَا وَطَرًا زَوَّجْنٰكَهَا لِكَيْ لَا يَكُوْنَ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ حَرَجٌ فِيْٓ اَزْوَاجِ اَدْعِيَآئِهِمْ اِذَا قَضَوْا مِنْهُنَّ وَطَرًا ؕ وَكَانَ اَمْرُ اللّٰهِ مَفْعُوْلًا ﴿٣٧﴾ مَا كَانَ عَلَى النَّبِيِّ مِنْ حَرَجٍ فِيْمَا فَرَضَ اللّٰهُ لَهٗ ؕ سُنَّةَ اللّٰهِ

نو هر کله چه پوره کړو زید دَ هغے نه حاجت نو په نکاح سره مونږ درکړه تاته د پاره دَ دے چه نه وی په مؤمنانو باندے تنګسیا په باره دَ نکاح کولو دَ بیبیانو دَ متبنّی ګانو دَ دوی کښ هر کله چه پوره کړی دوی دَ هغوی نه حاجت او دے حکم دَ اللّٰه تعالیٰ پوره کړے شوے (۳۷) نه دے وی په نبی(ﷺ) باندے تنګسیا په رسولو دَ هغه حکم کښ چه فرض کړیدے اللّٰه تعالیٰ په دهٔ باندے پشان دَ طریقے دَ اللّٰه تعالیٰ

په بله رائے او قول باندے دَ عمل کولونه ځان بچ کړیشی ﴿وَمَنْ يَّعْصِ﴾ دلته دَ عصیان نه مراد خپل رائے او اختیار مقدّم کول دی په نص دَ قرآن او دَ سنّت باندے۔

[۳۷] دا خطاب دے نبی ﷺ ته ځکه چه لفظ دَ ان تخشاه او زوجنکها کښ خطاب هغهٔ ته دے ۔ اوپه دے ایت کښ دَ زید بن حارثه بعضے حالاتوته اشاره ده هغهٔ دا چه زید بن حارثه په وړوکوالی کښ دَ مور سره روان وؤ په سفر باندے نو بدمعاشانو په لاره کښ هغهٔ لره دَ مورنه په زورسره واخستلو اودَعکاظ میلے ته ئے راوستلواو وئیل ئے چه دامرئے دے دَخرځ دَپاره نوحکیم بن حزم چه وکیل تجارت وؤدَخدیجه رضی اللّٰه عنها هغه دَ دوی نه په ځلورسوه درهم باندے واغستواودَخدیجه رضی اللّٰه عنها سره اوسیدلو بیاچه دَنبی ﷺ دَ خدیجه رضی اللّٰه عنها سره نکاح اوشونوهغے زید نبی ﷺ ته اوبخلو، په دغه زمانه کښ دَ زیدپلار وغیره دَ هغهٔ په طلب کښ ګرځیدل نومګے معظّمے ته راغلل نو زید ئے دَ نبی ﷺ سره اومندلونودَ هغه نه ئے طلب کړو هغهٔ اوفرمائیل چه دَ زید نه تپوس اوکړئے که تاسو سره په خپله خوښه ځی نو ځه ئے نه منع کوؤم نو هغهٔ اوئیل چه ځه دَ نبی ﷺ په مقابله کښ پلاراورونړه نه خوښوم نوبیا نبی ﷺ هغهٔ ته اُوئیل چه ماتهٔ ازاد کړے او دَ هغهٔ وخت دَ رواج په موافق سره ئے اوئیل چه زید زماځوئے شو یعنی متبنیٰ ئے ترینه جوړکړو دَ هغے نه روستو به دهٔ ته زید بن محمد(ﷺ) وئیلے کیدلو۔ بیا نبی ﷺ دَ زید نکاح دَ زینب بنت جحش رضی اللّٰه عنها سره اوترلو۔ لیکن دَ دوی دَ کورنئی تعلق پوره جوړ رانغے نو زید اوغوښتله چه ځه دے له طلاق ورکؤم نو رسول اللّٰه ﷺ هغهٔ لره دَ طلاق ورکولونه منع کړو۔ او رسول اللّٰه ﷺ ته په وحی سره معلوم شویوه چه روستو دَ طلاق ورکولو دَ زید نه نبی ﷺ به دَ دے سره نکاح کوی ۔ او په نکاح کولو کښ دَ منافقانو او مشرکانو دَ طرف نه دابدنامه وه چه دَ ځوئی دَ بنځے سره ئے نکاح اوکړونودَ دے بدنامے نه نبی ﷺ یریدلونوهغهٔ ته ئے اوئیل چه دے لره طلاق مه ورکوه۔ لیکن هغه طلاق ورکړواوعدت ئے تیرشونواللّٰه تعالیٰ دَزینب نکاح دَنبی ﷺ سره اوکړلو ﴿اَمْسِكْ عَلَيْكَ زَوْجَكَ﴾ یعنی هغهٔ ستانه مشوره طلب کړه په باره دَ طلاق دَ هغے کښ او دَ زوجے نوم زینب رضی اللّٰه عنها وویعنی اګر چه په تا باندے بوج اوتکلیف به وی لیکن دَ هغے سره ګذاره کوه ﴿وَتُخْفِيْ فِيْ نَفْسِكَ مَا اللّٰهُ مُبْدِيْهِ﴾ کوم څیزچه اللّٰه تعالیٰ بنکاره کړو هغهٔ نبی ﷺ په زړه کښ ساتلواواللّٰه تعالیٰ خودابنکاره کړه چه هرکله زید طلاق ورکړوزینب رضی اللّٰه عنها ته اوعدت ئے هم تیرشونواللّٰه تعالیٰ دَ هغے نکاح دَ نبی ﷺ سره اوکړونو معلومه شوه چه دَ نبی ﷺ په زړه کښ دا خبره وه دَ دے وجے نه چه اللّٰه تعالیٰ ورته دَ مخکښ نه خبررالیږلے وؤ ﴿وَاللّٰهُ اَحَقُّ اَنْ تَخْشٰىهُ﴾۔

فِي الَّذِيْنَ خَلَوْا مِنْ قَبْلُ ۭ وَكَانَ اَمْرُ اللّٰهِ قَدَرًا مَّقْدُوْرَۨا ۝ الَّذِيْنَ يُبَلِّغُوْنَ رِسٰلٰتِ اللّٰهِ وَيَخْشَوْنَهٗ

په هغه کسانو کښ چه تير شويدی دَ دهٗ نه مخکښ او دے حکم دَ اللّٰه تعالیٰ تقدير مقرر کړيشوے (۳۸) دا هغه کسان دی چه رسوی پيغامونه دَ اللّٰه تعالیٰ او ويريگی دَ هغه نه

تنبيه: بعض مفسرينو په دے مقام کښ داسے قصے ليکلی دی چه دَ نبی ﷺ دَشان سره نه خائيگی يعنی په زړه دَ نبی ﷺ کښ محبت دَ زينب پيدا کيدل او زړه کښ دا تمنا کول چه زيد زينب له طلاق ورکړی اوځه ئے په نکاح سره واخلم وغيره نودَ هغے په باره کښ په دے ايت کښ پخپله تر ديد موجود دے (۱) يوداچه اَمْسِكْ عَلَيْكَ، ئے وئيلی دی نوکه دَ نبی داسے محبت اوتمناوے نوپکار وو چه هغهٗ ته ئے وئيلے وے چه طلاق ورکړه۔ دويم مَا اللّٰهُ مُبْدِيْهِ، که دَ رسول په زړه کښ دا محبت او تمنا وے نو ضرور اللّٰه تعالیٰ به هغهٗ ښکاره کړے وے ځکه چه اللّٰه تعالیٰ دَ هيڅانه يره نه کوی دريم ﴿زَوَّجْنٰكَهَا لِكَيْ﴾ که دَ هغهٗ محبت وے نواللّٰه تعالیٰ به فرمائيلے وے زَوَّجْنَاكَهَا لِاَنَّكَ تُحِبُّهَا (ستا دَمحبت دَ وجے نه م په نکاح سره درکړه) دارنگ محققينو مفسرينوهم په دغه قصّه باندے ردکړے دے تفسير ابن کثيرکښ وئيلی دی چه ذکر کړيدی ابن ابی حاتم اوطبری بعض اٰثارَ سلف نه مونږدَ هغے نه مخ ګرځوؤپس نه ئے ذکرکوؤ۔ اوتفسيرقرطبی کښ ليکلی دی چه بعضومفسرينو روايت کړے دے چه نبی ﷺ په ښځه دَ زيد باندے مئين اوبعضوبکواس کوؤنکو وئيلی دی چه عاشق شونودا دَ هغه چانه صادريگی چه دَ نبی دَ عصمت نه جاهل وی يا سپك والے کوی دَ حرمت دَ نبی ﴿فَلَمَّا قَضٰى زَيْدٌ مِّنْهَا﴾ دَ زيد ﷺ دا ډيرقوی منقبت دے چه دَ هغهٗ نوم په قرآن کريم کښ لوستلے کيږی دَبل صحابی داصفت نيشته اوعلماؤ دَ دے حکمت داذکر کړيدے چه هرکله دَ دهٗ نسبت دَ زيد بن محمد (ﷺ) نه بدل کړيشو زيد بن حارثه ته نوپه دے سره دَ دهٗ زړه ته ډيرخفګان اورسيدلونودَ هغے دَ جبيرے دَپاره دَ دهٗ نوم ئے په قرآن کښ نازل کړو ﴿وَطَرًا﴾ مراد ترينه حاجت دَ يوځائے کيدلودَ بی بی سره اويا طلاق ورکول دی ځکه چه په حديث دَ مسلم کښ ثابت ده چه نزديکت نه روستو ئے طلاق ورکړے دے ﴿زَوَّجْنٰكَهَا﴾ دَ دے نه معلومه شوه چه دَنکاح دَپاره ولی دَ نکاح پکاردے خودا اختلافی مسئله ده۔ اوپه نسبت کښ اللّٰه تعالیٰ ته اشاره ده چه دَ دے نکاح اللّٰه تعالیٰ په اسمانونوکښ کړے دے لکه چه په حديث دَ نسائی کښ راغلی دی چه دے به فخرکوؤپه نورو بيبيانوباندے چه اللّٰه تعالیٰ زما نکاح په اسمان کښ کړيدے اودا دَ نبی ﷺ خصوصيت دے چه اللّٰه تعالیٰ ئے پخپله نکاح کړے دے ﴿لِكَيْ لَا يَكُوْنَ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ حَرَجٌ﴾ دالويه فائده شرعيه ده په نکاح دزينب کښ چه هغهٗ رد دَ شرك فی التحريم دے اوتردید دَ رسم ورواج دَمشرکانودے چه هغوی به دَ متبنّٰی دَ ښځے سره نکاح کول همیشه دپاره حرام ګنړل۔

[۳۸] دابل خطاب دے نبی ﷺ ته په صيغه دَغائب سره دپاره دَ احترام۔ ربط دا دے هرکله چه نکاح دَ رينب کښ دَ خلقو دَ طعنونونه يره وه نوپه دے ايت کښ ترغيب دے چه په دے نکاح کښ فريضه دَ اللّٰه تعالیٰ مخلوق ته رَسَوَل دی چه هغهٗ دَ رسم شرکی تردید کول دی نو نبی ﷺ لره نه دی جائزچه په دے کار کښ هغهٗ هيڅ حرج محسوس کړی ﴿سُنَّةَ اللّٰهِ﴾ مراد دَ دينه طريقه دَ اللّٰه تعالیٰ ده په ټولوانبياؤعليهم السلام باندے دَلرے کولودَحرج په تبليغ اودعوت کښ يا مراد دَ دے نه طريقه دَ وسعت ده په باره دَ نکاح

وَلَا يَخْشَوْنَ اَحَدًا اِلَّا اللّٰهَ ؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ حَسِيْبًا ﴿٣٩﴾ مَا كَانَ مُحَمَّدٌ اَبَآ اَحَدٍ مِّنْ رِّجَالِكُمْ وَلٰكِنْ
رَّسُوْلَ اللّٰهِ وَخَاتَمَ النَّبِيّٖنَ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمًا ﴿٤٠﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اذْكُرُوا اللّٰهَ ذِكْرًا ع ٤

اونه ویریکی دَ هیڅانه سیوا دَ الله تعالیٰ نه او پوره دے الله تعالیٰ حساب کوؤنکے (٣٩) نه دے محمّد(ﷺ) پلار دَهیڅا دَ تارینو ستاسو نه لیکن رسول دَ الله تعالیٰ دے او اخری دے دَ پیغمبرانونه او دے الله تعالیٰ په هر ځیز باندے علم لرونکے (٤٠) اے ایمان والو یادوئے الله تعالیٰ په یادؤلو

کښ په مخکښنوانبیاؤعلیهم السلام باندے لکه داؤد اوسلیمان علیهما السلام شواوسُنَّةَ نه مخکښ حرف دَ کاف حذف دے یعنی کسنّة (پشان دَ طریقے) تیرشوی ایت کښ مَفْعُوْلًا، ذکر کړو ځکه چه هلته مراد نکاح دَ زینب سره وؤ او هغهٔ پوره کړے شو اوپه دے ایت کښ ئے قَدَراً ذکرکړو ځکه چه فَرَضَ کښ معنیٰ دَ تقدیرده ـ اومَقْدُوْرًا دَ تاکید دَپاره دے یعنی هیڅ تبدیلی او خلاف په هغے کښ نه واقع کیږی۔

[٣٩] داصفت یا بدل دے دَ اَلَّذِيْنَ خَلَوْا مِنْ قَبْلُ، نه او ذکر دَ شان دَ تیرشوؤ انبیاؤ دے په درے صفتونو سره۔ ﴿وَكَفٰى بِاللّٰهِ حَسِيْبًا﴾ دایره ده هغه کسانو ته چه پیغمبرانو باندے اعتراضونه کوی یعنی الله تعالیٰ به دَ دوی سره حساب اوکړی چه په څه سبب سره دوی اعتراضونه کول۔

[٤٠] داخطاب دے مؤمنانوته اوپه دے کښ جوابونه دَ هغه اعتراضونودی چه خلقوپه نکاح دَ زینب رضی الله عنها په وجے سره په نبیﷺ باندے کول۔ اول اعتراض چه دے نبی دَ خپل ځوی دَ منځے سره نکاح کړے ده؟ نو جواب اوشو مَا كَانَ مُحَمَّدٌ اَبَا اَحَدٍ مِّنْ رِّجَالِكُمْ، یعنی دَنبی په نارینه اولادکښ سړیتوب یعنی بلوغ ته هیڅ یونه دے رسیدلے ځکه چه نارینه اولاد ئے په وړوکوالی کښ مړه شوی دی هاں لونړه ئے څلورېلوغ ته رسیدلے وے او واده شوے وے او رِجَالِكُمْ،کښ اشاره ده چه ستاسونه هیڅوك دَ هغهٔ ځوئے نشی جوړیدلے ، نو پدے کښ نفی دَ حقیقی بالغ ځوئي اومجازی یعنی دَ متبنیٰ دواړو مراد ده ـ دویم اعتراض چه څه ضرورت وؤ چه دهٔ دَ زینب سره نکاح کوؤ اګر چه انګور ئے نه ده خو خلق طعنونه کوی؟ جواب اوشو وَلٰكِنْ رَّسُوْلَ اللّٰهِ، یعنی دامسئله (چه رد دَ رسم شرکی دے) رَسُوْل ضروریدی او دے پیغمبر دے په دهٔ باندے دا رَسُوْل فرض دی ـ دریم اعتراض؛ څه ضرورت ووچه دهٔ دا خبره رسوَله بلکه دَ دهٔ نه روستوبه بل پیغمبر راغلے وے نو هغهٔ به رَسُولے وے ؟ جواب اوشو وَخَاتَمَ النَّبِيّٖنَ، یعنی دے آخری نبی دے دَ دهٔ نه روستوبل نبی نه راځی۔ څلورم اعتراض: چاته علم دے چه بل نبی روستو نه راځی کیدے شی چه راشی؟ جواب اوشو وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمًا، یعنی الله تعالیٰ ته علم دے او هغهٔ دا خبر راکړے دے۔

فائده: دَ ایت دَ مضمون او رواندش نه صریح معلومه شوه چه خَاتَمَ النَّبِيّٖنَ نه مراد دادے چه دا آخری نبی دے دَ دهٔ نه روستو بل نبی راتلونکے نیشته او دارنګ په حدیث صحیح کښ راغلی دی ـ (وانا خاتم النبین لانبی بعدی)(ابوداؤد) اوبل حدیث صحیح کښ دی؛وانا لعاقب والعاقب الذی لیس بعده نبی؛ اودَ دے نه علاوه ډیراحادیث شته نومعلومه شوه چه نبیﷺ دَ خاتم معنیٰ په اخرسره کړے ده۔ اودارنګ په لسان العرب (کتاب دَ لغت) کښ وئیلی دی چه خاتم النبین اخرهم، نودا ایت قطعی نص دے په دے باره کښ چه زمونږنبی اخری نبی دے دَ دهٔ نه روستو بل نوے نبی جوړیدونکے نیشته دَ دے نه انکارکول دَ قطعی نص

كَثِيْرًا ﴿٤١﴾ وَّسَبِّحُوْهُ بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا ﴿٤٢﴾ هُوَ الَّذِيْ يُصَلِّيْ عَلَيْكُمْ وَمَلٰٓئِكَتُهٗ لِيُخْرِجَكُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ ؕ وَكَانَ بِالْمُؤْمِنِيْنَ رَحِيْمًا ﴿٤٣﴾ تَحِيَّتُهُمْ يَوْمَ يَلْقَوْنَهٗ سَلٰمٌ ۚ وَاَعَدَّ لَهُمْ اَجْرًا كَرِيْمًا ﴿٤٤﴾ يٰٓاَيُّهَا

ډیرو سره (٤١) او پاکی وائیے دَ هغه صبائي او بیګائي (٤٢) اللّٰه تعالیٰ هغه ذات دے چه پورته کوی شان ستاسو (په رحمتونو سره) او ملائك دَ هغه په دُعاګانو سره دے دپاره چه اوباسی تاسو لره دَ تیارونه رنړا ته او دے په مؤمنانو باندے خاص رحم کوؤنکے دے (٤٣) پیشکشی دَ دوی به په هغه ورځ چه مخامخ شی اللّٰه تعالیٰ ته سلام به وی اوتیار کړے دے دوی لره ثواب عزت والا (٤٤) اے

نه انکارکول دی او دانکاره کفردے اودَ عیسیٰ علیه السلام په نزول باندے دَ اسمان نه احادیث متواترراغلی دے لیکن دَهغه په راتللوسره ختم نبوت ته هیڅ نقصان نه رسی ځکه هغهٔ زورمخکنے نبی دے اوهرکله چه راشی نونوے وحی به ورته نه راځی بلکه فیصله به زمونږدَ نبی ﷺ په شریعت سره کوی۔

[٤٢،٤١] دَدے ایت نه تر اخردَ سورة پورے خلورم باب دے په دے کښ باقی پنځه خطابات دی نبی ﷺ ته(٤٥،٤٨،٥٠،٥٢،٥٩) کښ اواووه خطابات دی مؤمنانوته (٤١،٤٢،٤٩،٥٣،٥٦،٦٩،٧٠) کښ او تخویفات دی په اته ایاتونو (٥٧،٥٨،٦٤، ٦٥،٦٦، ٦٨،٧٢)کښ اوزجردے منافقانوته په سوال غیر ضروری باندے په (٦٣)کښ۔ په دے (٤١،٤٢) کښ خطاب دے مؤمنانوته په دوه اوامرو سره۔ ذکر کثیر او تسبیح هروخت۔ ربط دَمخکښ ایت سره دا دے هرکله چه هغهٔ وهمونه اواعتراضونه ئے دفع کړل کوم چه په نبی ﷺ باندے خلقو کول نوپه دے ایتونو کښ دَ شکونواو وهمونودَ زائل کولو دپاره علاج ذکرکوی ﴿ذِكْرًا﴾ داعام لفظ دے عبادات بدنیه مالیه قلبیه، لسانیه ټولوته شامل دے ﴿كَثِيْرًا﴾ ډیرهغهٔ دے چه په اخلاص دَ زړه اوپه سنت طریقے سره وی ﴿بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا﴾ دَ دے دواړو وختونوفضیلت ډیردے دَ دے وجے نه ئے دا خاص ذکرکړل نوراوقات هم مراد دی یا مراد دَ دے نه ورځ اوشپه ده اومراد دَ تسبیح نه سبحان اللّٰه وئیل په ژبه باندے سره دَ عقیدے نه اودارنګ مونځ کولوته شامل دے۔

[٤٣] په دے ایت کښ سبب دے دپاره دَما قبل یعنی ذکراوتسبیح دَ دے وجے نه کوئے چه هغه په تاسوباندے سرهٔ دَ ملائکونه صلاة رالیږی یا دانتیجه اوتفریع ده یعنی هرکله چه تاسو هروخت دَ اللّٰه تعالیٰ ذکر او تسبیح کښ مشغول ئیے نو اللّٰه تعالیٰ په تاسو باندے صلوة رالیږی اوصلوة دَ اللّٰه تعالیٰ اوملائك سبب دے دپاره دَ وتلودَ ظلماتونه نورته اوهغه بیا سبب دے دَپاره دَ خاص رحمتِ الٰهیه۔ صلوة په اصل کښ رعایت اوعنایت کول دی اوهغهٔ دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه رحمت کول اونیك ذکردَ هغه په بندګانو کښ اشاعت کول اودَ ملائکودَ طرف نه استغفارغوښتل دی ځکه چه ملائك مستجاب الدعوات دی (یعنی دَ هغوی دعاګانے قبلیږی) اودا استغفارسبب دَ رفع درجات دے اودَمؤمنانودَ طرف نه دُعا غوښتل په الفاظو دَصلوة سره یاصرف دعا غوښتل دَپاره دَ رحم دَ اللّٰه تعالیٰ دی ﴿الظُّلُمٰتِ﴾ مراد دَ دے نه تیرے دَمنافقت اواعتراضونه اوطعنونه کول دی په اهل حق باندے اوکفروشرك اوجهل ته هم شامل دے اونُورنه مراد یقین اوکامل ایمان اوتوحید اوسنت دے۔

يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ اِنَّآ اَرْسَلْنٰكَ شَاهِدًا وَّمُبَشِّرًا وَّنَذِيْرًا ﴿٤٥﴾ وَّدَاعِيًا اِلَى اللّٰهِ بِاِذْنِهٖ وَسِرَاجًا مُّنِيْرًا ﴿٤٦﴾ وَبَشِّرِ
الْمُؤْمِنِيْنَ بِاَنَّ لَهُمْ مِّنَ اللّٰهِ فَضْلًا كَبِيْرًا ﴿٤٧﴾ وَلَا تُطِعِ الْكٰفِرِيْنَ وَالْمُنٰفِقِيْنَ وَدَعْ اَذٰىهُمْ وَتَوَكَّلْ عَلَى
اللّٰهِ ؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيْلًا ﴿٤٨﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا نَكَحْتُمُ الْمُؤْمِنٰتِ ثُمَّ طَلَّقْتُمُوْهُنَّ مِنْ قَبْلِ اَنْ
تَمَسُّوْهُنَّ فَمَا لَكُمْ عَلَيْهِنَّ مِنْ عِدَّةٍ تَعْتَدُّوْنَهَا ۚ فَمَتِّعُوْهُنَّ وَسَرِّحُوْهُنَّ سَرَاحًا جَمِيْلًا ﴿٤٩﴾ يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ

نبی یقیناً لیږلے ئے مونږ ته بیان کوؤنکے او زیږے ورکوؤنکے او ویږه ورکوؤنکے (٤٥) او بلنه کوؤنکے اللّٰه تعالیٰ ته په حکم دَ هغه سره او چراغ بلیدونکے (٤٦) او زیږے ورکړه مؤمنانو ته چه یقیناً دوی لره دَ طرف دَ اللّٰه تعالیٰ نه فضل لوے دے (٤٧) او خبره مه منه دَ کافرانو او منافقانو او پریګده ضرر دَ دوی او ځان سپاره په اللّٰه تعالیٰ باندے او پوره دے اللّٰه تعالیٰ ذمه وار (٤٨) اے ایمان والو هر کله چه نکاح اوکړئے دَ مؤمنو زنانو سره بیا طلاق ورکړئے تاسو هغوی لره مخکښ دَ یو ځائے کیدلو نه دَ هغوی سره نو نیشته تاسو لره په هغوی باندے هیڅ عدت چه شمارئے تاسو هغے لره نو سامان ورکړے هغوی لره او رخصت کړئے هغوی لره په رخصتئے خائسته سره (٤٩) اے نبی

[٤٤] په دے کښ بشارت اخرویه دے۔ تحیة هغه قول ته وائي چه سبب دَ خوشحالئی دَ مخاطب وی نو هغه دُعا لفظ دَ حيَّاك اللّٰه ته شامل دے او السلام علیکم وئیلوته شامل دے او دَ اللّٰه تعالیٰ نسبت دَ خائسته صفاتوته شامل دے په دے ایت کښ مراد الفاظ دَ خوشحالئی دی او دَ سلام نه مراد سلامتیا اومبارکی ورکول په سلامتیا باندے ده ۔

[٤٥،٤٦،٤٧،٤٨] په دے ایاتونوکښ نبی ﷺ ته پنځه خطابات دی اودَ نبی ﷺ پنځه نومونه ذکردی۔ ﴿شَاهِدًا﴾ مراد دَ دے نه شهادت دَ هغه دے په امت خپل باندے په رسالت اوتبلیغ سره یا مراد دَ دے نه بیان کوؤنکے دے اودا دواړه معانے لسان العرب کتاب کښ لیکلی دی۔ دویمه معنیٰ دلته غوره ده ځکه چه روستو دوه صفتونه تشریح دَ بیان کولودی ﴿سِرَاجًا﴾ شمس یا قمرئے ورته نه دی وئیلی ځکه هغوی چه غائب شی نو بیائے فائده دَ رنړانه وی ۔ او سراج نه بل څوك خپل ځان دپاره رنړا اخستلے شی اګر چه سراج مړشی لیکن رنړائے باقی وی اودغه شان دَ رسول اللّٰه ﷺ دے ﴿وَلَا تُطِعِ﴾ دا ذکردَ حال دَهغه کسانودے چه محروم دی دَ رنړانه۔ اوهرکله چه په سبب دَ نکاح دَ زینب سره دَ کافرانواومنافقانودَ طرف نه (اذی) تکلیف ورکول وو نبی ﷺ ته اوپه هغه پسے بدے خبرے کول ډیرشول نودلته ئے اوفرمائیل ﴿وَدَعْ اَذٰىهُمْ﴾ یعنی دَ دوی بدوئیل او طعنونه کول په هیڅ کښ مه شماره صبر پرے کوه جواب هم مه ورکوه۔

[٤٩] دا خطاب دے مؤمنانوته۔ ربط دا دے چه دَکافرانو او منافقانو پشان مه کیږئ په اذیت ور کولو کښ بلکه هغهٔ بیبیانے چه تاسوترے نه هیڅ فائده نده حاصل کړے چه په هغوی باندے ستا هیڅ حق هم نده پاتے شوے لیکن دَ هغوی سره به احسان کوئے او اذیت به نه ورکوئیے نو معلومه شوه چه دَ چانه تاسو فائده دینی حاصلوئے هغه ته به په هیڅ طریقه اذیت اوتکلیف نه ورکوئے دَ دے وجے نه دلته حال دَغیرمدخول بها ذکرکړو ځکه چه هغه ادنیٰ درجه ده نو معلومه شوه چه دَ مدخول بها سره به په طریق اولی سره احسان

اِنَّآ اَحْلَلْنَا لَكَ اَزْوَاجَكَ الّٰتِيْٓ اٰتَيْتَ اُجُوْرَهُنَّ وَمَا مَلَكَتْ يَمِيْنُكَ مِمَّآ اَفَآءَ اللّٰهُ عَلَيْكَ وَبَنٰتِ عَمِّكَ وَبَنٰتِ عَمّٰتِكَ وَبَنٰتِ خَالِكَ وَبَنٰتِ خٰلٰتِكَ الّٰتِيْ هَاجَرْنَ مَعَكَ ۫ وَامْرَاَةً مُّؤْمِنَةً اِنْ وَّهَبَتْ نَفْسَهَا لِلنَّبِيِّ اِنْ اَرَادَ النَّبِيُّ اَنْ يَّسْتَنْكِحَهَا ۗ خَالِصَةً لَّكَ مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ ۭ قَدْ عَلِمْنَا مَا فَرَضْنَا عَلَيْهِمْ فِيْٓ اَزْوَاجِهِمْ وَمَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُمْ لِكَيْلَا يَكُوْنَ عَلَيْكَ حَرَجٌ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ۝ تُرْجِيْ مَنْ تَشَاۗءُ مِنْهُنَّ وَتُــــْٔوِيْٓ اِلَيْكَ مَنْ تَشَاۗءُ ۭ وَمَنِ ابْتَغَيْتَ مِمَّنْ عَزَلْتَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكَ ۭ ذٰلِكَ اَدْنٰٓى اَنْ تَقَرَّ اَعْيُنُهُنَّ وَلَا يَحْزَنَّ وَيَرْضَيْنَ

یقیناً حلالے کړی دی مونږ تا لره بیبیانے ستا هغه چه ورکړی دی تا مهرونه دَ هغوی او هغه وینځے چه مالك ئے دے ښے لاس ستا دَ هغه زنانۂ نه چه مهربانی کړے ده الله تعالیٰ په تا باندے (دَ مال دَ کافرانونه) او لونړه دَ تره ستا او لونړه دَ تروریانو ستا او لونړه دَ ماما ستا او لونړه دَ ماسی ګانو ستا هغه چه هجرت ئے کړے وی تاسره او زنانه مؤمنه که چرے اوبخی خپل ځان نبی(ﷺ) ته که چرے غواړی نبی چه په نکاح سره واخلی هغے لره (دا) صرف تا لره ده نیشته نورو مؤمنانو لره یقیناً پوهه یو مونږه په هغه څیز چه فرض کړے دے مونږ په دوی باندے په باره دَ بیبیانو دَ دوی کښ او دَ هغه وینځو کښ چه مالك دی خی لاسونه دَ دوی دَپاره د دے چه نه وی په تا باندے تنګسیا او دے الله تعالیٰ بخنه کوؤنکے رحم کوؤنکے (٥٠) (دَ نمبرنه) روستو کولے شے ته هغه بی بی چه غواړے ته دَ دوی نه او یو ځائے کولے شے دَځان سره هغه چه غواړے او هغه بی بی چه طلب کوے ته (یوځائے کیدل) دَ هغے دَهغه قسم نه چه جدا کړے وی تا (دَ نمبرنه) نو نیشته ګناه په تا باندے دا ښه نزدے ده چه یخیګی به سترګے دَ دوی او نه به خفه کیږی او رضا به وی

کوئے ﴿فَمَتِّعُوْهُنَّ﴾ داشامل دے نصف مهرته که چرے مخکښ دَ طلاق نه مهرمقرر کړے وی او که نه وی مقررنوصرف جوړه جامه، لوټه، پیزاراوپرونے وغیره مراد دے اوسراح جمیل دا دے که څه ئے ورکړے وی نودَ حُسنِ اخلاق تقاضا داده چه هغه ترینه واپس نه غواړی۔

[٥٠] داخطاب دے نبی ﷺ ته په وسعت دَ منکوحاتواودَ وینځوسره دَپاره دَ دے چه په دین رَسَولو کښ هغه ته اسانتیا راشی په دے ایت کښ څلور قسمه ذکرکړی دی اول قسم هغۂ زنانه چه نبی ﷺ هغے سره په عوض دَمهرسره نکاح کوی یائے کړیدے دویم قسم هغه چه په مال غنیمت کښ حاصله شوے وی اوبیائے ازاده کړے وی اونکاح ئے ورسره کړے وی یا بغیر دَ ازادولواودَ نکاح کولونه په طوردَ وینځے دَ هغے نه فائده اخلی لکه صفیه، جویریه، ریحانه رضی الله تعالیٰ عنهن۔ دریم قسم دَ پلار دَ طرف نه خپلوانے یعنی دَ تره یا دَ تروروالونړه او دَ مور دَ طرف نه خپلوانے یعنی دَ ماما یا دَ ماسی لونړه، دَ اول نه مراد قریشیه دی اودَ دویم نه مراد دَ بنوزهره قبیلے دی اوهجرت ئے دَ دے وجے نه شرط کړے دے۔ چه بغیردَ هجرت نه ایمان ناقص وی اوپیغمبردَپاره کمال ایمان والا پکاردے۔ څلورم قسم هغه زنانه چه خپل ځان نبی ﷺ ته اوبخی بغیردَ مهرنه اوبغیر دَ ولی نه ﴿خَالِصَةً لَّكَ﴾ یعنی حلال کیدل دَ ے شماره بیبیانوپه دے څلورو قسمونو کښ خاص دی په نبی ﷺ پورے ﴿مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ﴾یعنی نورومؤمنانو لره زیات دَ څلورونه بیبیانے نه دی

بِمَآ اٰتَيْتَهُنَّ كُلُّهُنَّ ؕ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا فِيْ قُلُوْبِكُمْ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَلِيْمًا ﴿٥١﴾ لَا يَحِلُّ لَكَ النِّسَآءُ مِنْۢ بَعْدُ وَلَآ اَنْ تَبَدَّلَ بِهِنَّ مِنْ اَزْوَاجٍ وَّلَوْ اَعْجَبَكَ حُسْنُهُنَّ اِلَّا مَا مَلَكَتْ يَمِيْنُكَ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ

په هغه څه چه ته ورکوے دوی ته دا ټولے او الله تعالیٰ عالم دے په هغه څهٔ چه په زړونو ستاسو کښ دی او دے الله تعالیٰ پوهه او صبر والا(٥١) نه دی حلالے ستا د پاره زنانه روستو دَ دے ځلورو قسمونو نه او نه دی جائز چه بدلے کړے په دوی سره نورے (قسمونه) بیبیانے اګر چه خوشحاله وی تا لره خائست دَ هغوی سیوا دَهغے نه چه مالك دے خے لاس ستا او دے الله تعالیٰ په هر

جائزاو دارنګ بغیرد مهراودَ ولی نه نکاح دَ یوښځے سره هم دوی له نه دے جائز﴿فَرَضْنَا عَلَيْهِمْ﴾ په باره دَ ازواجو کښ په مؤمنانوباندے مهراو ګواهان دَ نکاح او ولی دَنکاح فرض دے اوپه باره دَوینځو کښ نفقه شرط ده ﴿لِكَيْلَا يَكُوْنَ﴾ داحکمت دے دَکثرة زوجاتودَ نبیﷺ یعنی دَبیبیانوپه ډیروالی سره دَ ډیرو خاندانو نوسره مصاهرت (سخرګنی) پیداشی نودَ دین تبلیغ اسان شی بله داچه دا بیبیانے به عامو زنانوته دَ دین پوهه ورکوی خاص طور سره په هغهٔ مسئلو کښ چه دَنارینه نه پردئے زنانه نه پوښتے نشی کولے۔

[٥١] دا دَ مخکښ خطاب سره متعلق دے یعنی هغهٔ ایت کښ فراخی په باره دَ نکاح کښ دَ نبیﷺ دَپاره ذکرکړے شوه اوس په دے ایت کښ فراخی په باره قَسم دَ بیبیانودَ هغهٔ کښ ذکرکوی دَپاره دَ دے چه په نبی ﷺ باندے حرج نه وی۔ قسم دَ ازواجو په عام مؤمنانو باندے واجب دے یعنی که دَیوسړی دَیوے نه ډیرے بیبیانے وی نوپه حقوق اداکولوکښ به عدل کوی اوپه شپه تیرولو کښ به هم مساوی حصه هریوے لره ورکوی هاں نزدیکت حسب خواهش دے په هغے کښ مساوات امکان نه لری لکه چه دَ زړه بے اختیاره محبت کښ برابری دَ انسان دَ وس نه بهرده۔ په نبیﷺ باندے قسم (دَ دے ایت په تقاضا) واجب نه وو لیکن سرهٔ دَ دے نه به هغهٔ اهتمام دَ قسم کوؤ﴿وَمَنِ ابْتَغَيْتَ﴾ مراد دا دے که یوه بی بی تا دَ نمبرنه ویستلے وی او بیائیے په نمبر کښ داخلول غواړے نوهم ستا اختیار دے۔ لکه سوده رضی الله عنها خپل نمبر عائشه رضی الله عنها ته بخلے وؤاودَنمبرنه وتلے وه﴿ذٰلِكَ اَدْنٰٓى﴾ په دے کښ فائدے بیانوی چه هرکله په تاباندے قسم واجب نه دے او سره دَ دینه دَ هغوی حقوق برابر اداکوے نو په دے کښ درے فائدے دی۔

اوله فائده: داچه اَنْ تَقَرَّ اَعْيُنُهُنَّ، یعنی هرکله چه ته پخپله رضا دَ هغوی حق اداکوے نو هغوی به خوشحاله وی۔

دویمه فائده: وَلَا يَحْزَنَّ، یعنی که څه وخت جداشی نو خفګان به نه ورځی۔

دریمه فائده: وَيَرْضَيْنَ، یعنی که ته لږحق اداکوے نوهم به رضاوی یعنی وائی به چه زما خوپه دهٔ باندے څه زوریا وجوب نیشته ﴿وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا فِيْ قُلُوْبِكُمْ﴾ په دے کښ اشاره ده دَ زړه بے اختیاره محبت ته چه دَ یوے بی بی سره زیات وی اوبلے سره کم وی لیکن په حقوقو کښ فرق نه کوی۔

شَيْءٍ رَّقِيْبًا ﴿٥٢﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَدْخُلُوْا بُيُوْتَ النَّبِيِّ اِلَّآ اَنْ يُّؤْذَنَ لَكُمْ اِلٰى طَعَامٍ غَيْرَ نٰظِرِيْنَ
اِنٰىهُ وَلٰكِنْ اِذَا دُعِيْتُمْ فَادْخُلُوْا فَاِذَا طَعِمْتُمْ فَانْتَشِرُوْا وَلَا مُسْتَاْنِسِيْنَ لِحَدِيْثٍ اِنَّ ذٰلِكُمْ كَانَ
يُؤْذِي النَّبِيَّ فَيَسْتَحْيٖ مِنْكُمْ وَاللّٰهُ لَا يَسْتَحْيٖ مِنَ الْحَقِّ وَاِذَا سَاَلْتُمُوْهُنَّ مَتَاعًا فَسْـَٔلُوْهُنَّ مِنْ وَّرَآءِ
حِجَابٍ ذٰلِكُمْ اَطْهَرُ لِقُلُوْبِكُمْ وَقُلُوْبِهِنَّ وَمَا كَانَ لَكُمْ اَنْ تُؤْذُوْا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَلَآ اَنْ تَنْكِحُوْٓا اَزْوَاجَهٗ
مِنْۢ بَعْدِهٖٓ اَبَدًا اِنَّ ذٰلِكُمْ كَانَ عِنْدَ اللّٰهِ عَظِيْمًا ﴿٥٣﴾ اِنْ تُبْدُوْا شَيْـًٔا اَوْ تُخْفُوْهُ فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِكُلِّ

څیز باندے نگهبان (٥٢) اے ایمان والو مه ننوځئے کورونو دَ نبی(ﷺ) ته مګر هغه وخت چه اجازت اوکړیشی تاسوته دپاره د خوراك نه به ئے انتظار کوؤنکی دَ پخیدلو دَ خوراك لیکن کله چه اوبللے شئے نو ورننوځے نو کله چه خوراك اوکړئے نو خواره شئے (اونه به اِساریګئے) مینه کوؤنکی دَ خبرو کولو یقیناً داکار دے چه خفه کوی نبی(ﷺ) لره نو حیا کوی ستاسونه او اللّٰه تعالیٰ حیانه کوی دَ بیان دَ حق نه او کله چه غواړئے دَ دوی نه سامان نو غواړئے ترینه شاته دَ پردے نه دا طریقه ښه پاك ساتونکے ده زړونو ستاسو او زړونو دَ دوی لره اونه دی جائز تاسولره چه خفه کړئے رسول اللّٰه لره اونه به نکاح کوئے دَ هغه دَ ییبیانو سره روستو دَ مرګ دَ هغه نه هیڅرے یقیناً دا په نیز دَ اللّٰه تعالیٰ لوے نا کاره کار دے (٥٣) که څرے ښکاره کوئ تاسو څه څیز یائے پټ کوئے نو یقیناً اللّٰه تعالیٰ په هر

[٥٢] دابل خطاب دے نبی(ﷺ) ته۔ دَ دے ایت دَحکم په باره کښ اختلاف دے یوقول دا دے چه دامنسوخ دے اومحکښ (٥٠) ایت ئے ناسخ دے مقصد دا دے چه کوم وخت دا ایت نازلیدلونودَ نبی(ﷺ) په نکاح کښ نهه ییبیانے وے نو اُوئیلے شوچه دَ دے نهونه زیاتے ییبیانے تاله جائزنه دی او دارنګ دَ دوی په بدل کښ هم نه دی جائزنوییاځه موده روستو(٥٠) ایت نازل شو چه تاله هرڅومره ییبیانے چه کوے نو جائزدی۔ دویم قول دا دے چه دا ایت منسوخ نه دے بلکه مراد دَ ایت دا دے چه دَ دغه څلورقسمونونه (کوم چه (٥٠) کښ ذکرشویدی) علاوه نورقسمونه تاله جائزندی بلکه یهودیه، نصرانیه، مجوسیه، وثنیه اوچه مؤمنه وی خوچه هجرت ئے نه وی کړے اونه اعرابیه اونه غریبه اودا قول نقل کړے دے خطیب په سراج المنیرکښ عکرمه نه اوضحاك اوابی بن کعب اوابوصالح اومجاهد﴿مِنْۢ بَعْدُ﴾ یعنی سیوا دَ دغه څلورو قسمونونه ﴿وَلَآ اَنْ تَبَدَّلَ بِهِنَّ﴾ مراد دَتبدیل نه دادے چه یوه بی بی طلاقه کړی اودَ هغے په بدله کښ دَ بلے سره نکاح اوکړی۔ او دارنګ دَ عرب جاهلیت طریقه داوه چه دَیوبل سره به ئے ییبیانے بدلولے۔

[٥٣] داخطاب دے مؤمنانوته۔ په دے ایت کښ اته نواهی اواوامرذکردی اودا اداب دَطعام دَ دعوت ولیمے اودَ ضیافت دی دَ نبی(ﷺ) په کورونوکښ اوعموماً دَنورومسلمانانوپه کورونوکښ هم اودارنګ مسئله دَحجاب(پردے) ده۔ اوپه اول کښ مقصد دادے چه نبی(ﷺ) دَ دعوت وتبلیغ په کارکښ مشغول دے نوبے فائدے مجلسونوسره دَ هغهٔ اوقات مه ضائع کوئے او دارنګ په بے پردګئے کښ هرڅوك کورته داخلیږی نوپه دے سره هم دَ انسان زړه ته خفګان رسیږی اودَ دین دَ دعوت په کارکښ لوے حَرج پیدا کیږی﴿غَيْرَ نٰظِرِيْنَ اِنٰىهُ﴾ داپه طریقه دَنهی سره دے یعنی دومره وختی (دَوخت نه مخکښ) مه داخلیږئے چه

شَيْءٍ عَلِيْمًا ﴿٥٤﴾ لَا جُنَاحَ عَلَيْهِنَّ فِيْٓ اٰبَآئِهِنَّ وَلَآ اَبْنَآئِهِنَّ وَلَآ اِخْوَانِهِنَّ وَلَآ اَبْنَآءِ اِخْوَانِهِنَّ وَلَآ اَبْنَآءِ اَخَوٰتِهِنَّ وَلَا نِسَآئِهِنَّ وَلَا مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُنَّ وَاتَّقِيْنَ اللّٰهَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدًا ﴿٥٥﴾

څیز باندے ښه پوهه دے (٥٤) نیشته ګناه په دوی (زنانۍ) باندے په باره دَ پلارانو دَ دوی اونه په ځامنو دَ دوی اونه په رونړو دَ دوی اونه په رویرونو دَ دوی کښ اونه په خوریونو دَ دوی کښ اونه په زنانه مؤمنو کښ اونه په هغه چا کښ چه مالك وی څی لاسونه دَ دوی او ویره دِ کوی دَ اللّٰه تعالیٰ نه یقیناً اللّٰه تعالیٰ په هر څیز باندے حاضر ناظر دے (٥٥)

طعام پوخ شوے نه وی اوتاسودَ هغے په انتظارکښ ناست ئے اوپه دے کښ کوروالاته هم تکلیف دے اودا مخکښ تلل دَمدعوانسان په حرص دَخوراك باندے دلیل دے۔ اِنَاهُ، انامصدردے په معنیٰ دَپخیدلوسره دے﴿وَاللّٰهُ لَايَسْتَحْيٖ﴾ استحیاء صفت دَ اللّٰه تعالیٰ دے دَ هغهٔ دَ شان سره مناسب بغیر دَ تشبیه او تاویل نه۔ داصفت کله ثبوتی راځی لکه حدیث کښ وارد دی چه (ان اللّٰه تعالیٰ حیي کریم) اوکله سلبی خصوصی راځی لکه په دے جمله کښ ﴿وَاِذَا سَاَلْتُمُوْهُنَّ مَتَاعًا﴾ یعنی که دَ بیبیانودَ رسول اللّٰهﷺ یا دَ نورو زنانونه څه ضروری تپوس کوئے یاڅه ضروری څیزترینه غواړئے نودَ دیوال اودَ دروازے دَ شاته نه غواړئے اودَ دے نه معلومه شوه چه په کورباندے دروازه یا پرده لګول ضروری دی اوواجب دی۔ او ایت په باره دَ نزول دَ حجاب کښ دے تفسیر قرطبی کښ وئیلی دی چه لفظ دَ متاعاً عام دے دنیوی او دینی ټولو ضروریاتو ته شامل دے نو معلومه شوه چه دَ ضرورت دَ وجے نه دَ پرَدو زنانوسره خبرے کول جائزدی۔ ﴿وَلَآ اَنْ تَنْكِحُوْٓا اَزْوَاجَهٗ﴾ یعنی زنانه چه دَ نبیﷺ په نکاح کښ وی دَ هغهٔ تروفات پورے اودَهغهٔ دَ وفات نه روستوهم دَ هغوی سره نکاح کول حرام دی۔ اودَ دے یووجه داده چه دوی امهات المؤمنین دی اودویمه وجه داده چه دابه بیبیانے وی دَ نبیﷺ په جنّت کښ، دریمه وجه داده چه زوجه خودَ اخری خاوند سره به وی په جنت کښ اوځلورمه وجه دَ نبیﷺ احترام اوشرافت دے۔ نومعلومه شوه چه دَ نبیﷺ په وفات سره نکاح دَ هغهٔ نه دے منقطع شوے لیکن دَ دے نه دلیل نیول دَ هغه په حیات باندے(چه هغے ته حیاتِ دنیویه باطل پرست خلق وائي) دا جهل دے۔

[٥٤] دا ایت متعلق دے دَتیرشوی ایت سره یعنی کوم منهیات چه په دغه ایت کښ بیان شول په هغے باندے عمل کول یا خلاف کول که ښکاره وی اوکه پټ وی نو اللّٰه تعالیٰ په هغے باندے خبردے جزا یاسزا به ورکوی۔

[٥٥] هرکله چه مخکښ ایت کښ حجاب کول دَ زنانه فرض شول یعنی نارینه به حجاب ته دننه نه وردا خلیږی نوپه دے ایت کښ دَ هغے نه دَ بعض کسانو استثناء ذکر کوی ۔یعنی دامذکوره کسان دَ پردے دننه په حال دَ خلوت کښ داخلیدلے شی۔

فائده: ترونه اوماماګان ئے نه دی ذکرکړی دَاکثراهلِ علمویه نیزهغوی هم په دے کښ داخل دی اشارةً ځکه چه بنی الأخ (روارهٔ) محرم دے دَ تروردپاره نو ترهٔ هم محرم شودَرویرے دَپاره اوبنی الاخت(خورئیے) محرم دے دَماسی دپاره نوماماهم محرم شودَ خورزے دپاره او دَ بعض په نیزباندے ترهٔ اوماما په دے حکم

إِنَّ اللّٰهَ وَمَلٰٓئِكَتَهٗ يُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِيِّ ؕ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا ﴿٥٦﴾ إِنَّ الَّذِيْنَ يُؤْذُوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ لَعَنَهُمُ اللّٰهُ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ وَاَعَدَّ لَهُمْ عَذَابًا مُّهِيْنًا ﴿٥٧﴾ وَالَّذِيْنَ

یقیناً اللّٰه تعالیٰ او ملائك دَ هغه صلوة (درود) وائی په نبی(ﷺ) باندے اے ایمان والو صلوة وائیے په هغه باندے او سلام وائیے سلام پوره (٥٦) یقیناً هغه کسان چه خفه کوی اللّٰه تعالیٰ او رسول دَهغه لعنت کړے دے په دوی باندے اللّٰه تعالیٰ په دُنیا او اخرت کښ او تیار کړے دے دپاره دَ دوی عذاب ذلیلوؤنکے (٥٧) او هغه کسان

کښ داخل نه دی لکه چه سخراو بنزے وغیره هم په دے کښ داخل نه دی۔

[٥٦] دابل خطاب دے مؤمنانوته په دے ایت کښ ذکرکوی عزت اوشرافت اومنزلت دَ نبیﷺ په ملاء اعلیٰ کښ اودغه عزت فرض کوی په ملاء ادنیٰ باندے دَ دے دَپاره چه هیڅ څوك دَهغه نبی دَ ذات اودَ هغهٔ دَبیبیانوپه باره کښ هیڅ ناکاره فکرهم په زړه کښ رانولی داتائید دے دَ تیرشوی حکم۔ صلاة دَ اللّٰه تعالیٰ په نبی باندے رحمت خاصه کول، عزت ورکول، دَګناهونونه معصوم ساتل، او مغفرت کول اولوئیے درجے ورکول دی اوصلاة دَ ملائکودَ هغهٔ دپاره دعاګانے غوښتل دَ هغهٔ اعزازاواحترام کول اومغفرت طلب کول دی، اودَ دے ټولونه یومشترك حال ته هم صلاة وئیلے کیږی چه دَ هغے نه تعبیرکیدے شی په (اعتنا بالشان) سره یعنی عظمت شان دَ هغهٔ اوشاباشے افرین وئیل په هغهٔ باندے ﴿صَلُّوْا عَلَيْهِ﴾ دا صیغه دَ امرده په فرضیت باندے دلالت کوی اوپه فرضیت دَ درودکښ درے اقوال دی اول داچه په عمرکښ یوځل فرض دے دویم داچه دَمونځ په اخره قعده کښ فرض دے دریم دا چه دَ هغهٔ دَ نوم سره وئیل فرض دی۔ اودَکومو چه نقل نیشته لکه الفاظ دَ درود تاج درود لکهی یا الصلوٰة علیك یارسول اللّٰه نودَ دے لوستل منع دی ځکه چه بنا دَ عباداتواوذکارو په نقل اوپه اتباع باندے ده۔ دارنګ کوم احادیث چه صحیح نه دی نودَ هغے الفاظونه هم ځان ساتل ضروری دی﴿سَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا﴾مراد دَ دے نه تحیه دَ اسلام ده چه السلام علیك ایها النبی ورحمة اللّٰه وبرکاته او دارنګ داخل دی په دے کښ تابعداری کول دَ هغهٔ اودَ هغهٔ خائسته صفتونه کول۔

[٥٧] په دے ایت کښ تخویف دے په عدم احترام دَاللّٰه تعالیٰ اودَ رسول سره روستودَ ذکرکولودَ احترام دَ هغهٔ نه ﴿يُؤْذُوْنَ﴾ ایذاء دَ اللّٰه تعالیٰ نسبت کول دی هغهٔ ته دَ ولد او دَ شریك او دَ ښځے او توصیف دَ هغهٔ په هغه صفتونو اواسماؤ سره لکه چه یهودیانو وئیل يَدُ اللّٰهِ مَغْلُوْلَةٌ، إِنَّ اللّٰهَ فَقِيْرٌ، او دارنګ هرقسم شرك کول او دَ هغهٔ دَ صفتونونه انکارکول اودَ هغهٔ تشبیه کول دَ مخلوق سره، اومخالفت کول دَ هغهٔ دَ امرو او دَ نواهی ته هم شامل دے۔ او رسول اللّٰهﷺ ته ایذاء ورکول په اقوالو سره داده چه هغهٔ ته ساحر، کاهن، شاعر، مجنون وغیره وائی او دارنګ دَ هغهٔ صفتونه دَ اللّٰه تعالیٰ سره مشابه کوی یاپه هغهٔ باندے اعتراضونه اوطعنونه کوی ۔ او ایذاء په اعمالوکښ داده چه په اُحد کښ دَ هغهٔ سرمبارك اومخ مبارك اوغاښ مبارك زخمی کړی اومات کړی وؤ او په مکه کښ دَ هغه دَپاسه ئیے لری اوګلمے دَ ځناورو اچولے وے اودَ هغه نوره بے عزتی ئیے کړے وه او دارنګ ایذاء په عملونوکښ دَ هغهٔ دَ سنت طریقے نه خلاف کول او دَ هغهٔ په

يُؤْذُوْنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ بِغَيْرِ مَا اكْتَسَبُوْا فَقَدِ احْتَمَلُوْا بُهْتَانًا وَّاِثْمًا مُّبِيْنًا ﴿٥٨﴾ يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ
لِّاَزْوَاجِكَ وَبَنٰتِكَ وَنِسَآءِ الْمُؤْمِنِيْنَ يُدْنِيْنَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَابِيْبِهِنَّ ذٰلِكَ اَدْنٰٓى اَنْ يُّعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ
وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿٥٩﴾ لَئِنْ لَّمْ يَنْتَهِ الْمُنٰفِقُوْنَ وَالَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ وَّالْمُرْجِفُوْنَ فِي الْمَدِيْنَةِ

چه خفه کوی مؤمنان سړی او مؤمنے زنانه بغیر دَ جرم نه چه دوی کړے وی نو یقیناً پورته کړه دوی (په ځان باندے) بدنامه او ګناه ښکاره (٥٨) اے نبی اُوایه ښیبانو خپلوته او لونړو خپلوته او ښیبانو دَ مؤمنانو ته چه راویزان کړی دَځان دپاسه دَ لویو پړونو خپلونه دا ډیره نزدے ده چه دوی به او پیژندلے شی نونه به شی تنګولے او دے اللّٰه تعالیٰ بخنه کوؤنکے رحم کوؤنکے (٥٩) که چرے منع نه شول منافقان او هغه کسان چه په زړونو دَ دوی کښ مرض دے او دروغ خبر خوروؤنکی دی په مدینه کښ

سنّت باندے دَ بل عالم، شیخ، استاد پیروغیره طریقے مخکښ ګنړل دی۔

[٥٨] په دے کښ هم تخویف دے په تکلیف رَسَولوسره مؤمنانوته که سړے وی او که زنانه وی۔ اذیت دَ اهل ایمان په اقوالو اوافعالو دواړو سره حرام دے۔ اقوال دادی کنځل کول، توهین کول ، غیبت کول، بهتان تړل په هغوی باندے، دَ نسب په وجه سره سپکول وغیره اوافعال دا دی وهل دَ هغوی هغویته سپك کتل۔ په مؤمنانو زنانو پسے ګرځیدل او هغوی ته کتل دَ هغوی بے پردے کول وغیره۔ قرطبی وئیلی دی چه اللّٰه تعالیٰ اذیت دَ اللّٰه او دَ رسول کفر ګرځولے دے او اذیت دَ مؤمنانو ئے ګناه کبیره ګرځولے دے۔ په دے ایت کښ لوئے تخویف دے شیعګانو او روافضو او دُشمنانو دَ صحابه کرامو ته چه ښه په اعتماد کولو سره په موضوعی او ضعیف تاریخی روایتونو سره په پیغمبر اوصحابه کرامو پسے بد رد وائی۔

[٥٩] دابل خطاب دے نبی ﷺ ته۔ هرکله چه دَ اذیت دَ ایمان والونه منع اوکړے شوه اوس دَ دفعے دَ اذیت دپاره طریقه ذکر کوی او دا مختص دے په زنانو پورے یعنی په وخت دَ سترکولو دَ زنانو کښ منافقان فاسقان به دوی ته اذیت نشی ورکولے لکه چه په دے ایت فَلَا يُؤْذَيْنَ، کښ ئے (سبب) ذکرکړے دے۔ ښیبانے دَ نبی ﷺ په وخت دَ وفات دَ هغهٔ کښ نهه وے۔ اولونړه دَ هغهٔ زینب،رقیه، ام کلثوم، فاطمة رضی اللّٰه تعالیٰ عنهن وے ﴿يُدْنِيْنَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَابِيْبِهِنَّ﴾ داحکم په هغه وخت کښ دے چه دوی دَ خپل حاجت او دَ ضرورت دپاره دَ کورنه بهر اوځی۔ اودَ ابن عباس رضی اللّٰه عنهما نه قرطبی اوخطیب شربینی او نورو مفسرینو روایت کړے دے چه طریقه دَ جلباب(پړونی) اغوستلو داده چه ټول سراومخ اوبدن ترخپو پورے به پټ ساتی صرف یوه سترګه به ښکاره وی اوبل روایت کښ دواړه سترګے ئے وئیلی دی۔ معلومه شوه چه دَ مخ پټول هم واجب دی او جلباب برابره خبره دهٔ که پړونے وی یابورقه وی یا اوګد قمیص وی خوچه سر اومخ اوخپے پټوی۔

لَنُغْرِيَنَّكَ بِهِمْ ثُمَّ لَا يُجَاوِرُوْنَكَ فِيْهَآ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿٦٠﴾ مَّلْعُوْنِيْنَ ۚ اَيْنَمَا ثُقِفُوْٓا اُخِذُوْا وَقُتِّلُوْا تَقْتِيْلًا ﴿٦١﴾
سُنَّةَ اللّٰهِ فِي الَّذِيْنَ خَلَوْا مِنْ قَبْلُ ۚ وَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّةِ اللّٰهِ تَبْدِيْلًا ﴿٦٢﴾ يَسْـَٔلُكَ النَّاسُ عَنِ السَّاعَةِ ۭ قُلْ اِنَّمَا
عِلْمُهَا عِنْدَ اللّٰهِ ۭ وَمَا يُدْرِيْكَ لَعَلَّ السَّاعَةَ تَكُوْنُ قَرِيْبًا ﴿٦٣﴾ اِنَّ اللّٰهَ لَعَنَ الْكٰفِرِيْنَ وَاَعَدَّ لَهُمْ سَعِيْرًا ﴿٦٤﴾
خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ۚ لَا يَجِدُوْنَ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ﴿٦٥﴾ يَوْمَ تُقَلَّبُ وُجُوْهُهُمْ فِي النَّارِ يَقُوْلُوْنَ يٰلَيْتَنَآ اَطَعْنَا اللّٰهَ
وَاَطَعْنَا الرَّسُوْلَا ﴿٦٦﴾ وَقَالُوْا رَبَّنَآ اِنَّآ اَطَعْنَا سَادَتَنَا وَكُبَرَآءَنَا فَاَضَلُّوْنَا السَّبِيْلَا ﴿٦٧﴾ رَبَّنَآ اٰتِهِمْ ضِعْفَيْنِ
مِنَ الْعَذَابِ وَالْعَنْهُمْ لَعْنًا كَبِيْرًا ﴿٦٨﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ اٰذَوْا مُوْسٰى فَبَرَّاَهُ اللّٰهُ

نو ضرور او به لمسوم تا لره دَ دوی جنګ ته بیابه نشی اوسیدلے دوی تاسو سره په هغے کښ مګر لګ (٦٠) لعنت به کړے شوی وی کوم ځائیے چه اومندلے شی اوبه نیولے شی او اوبه وژلے شی په وژلو سره (٦١) پشان دَ طریقے دَ الله تعالیٰ په هغه کسانو کښ چه تیر شوی دی دَ دوی نه مخکښ اوچرے اویه نه مومے ته طریقے دَ الله تعالیٰ لره بدلی (٦٢) تپوس کوی ستانه خلق په باره دَ قیامت کښ ته اُوایه یقیناً علم دَ هغے دَ الله تعالیٰ سره دے اوځه ځیز تاله خبر درکولے شی (په باره دَ قیامت کښ) یقیناً قیامت دے نزدے (٦٣) یقیناً الله تعالیٰ لعنت کړے دے په کافرانو باندے او تیار کړے دے دوی لره اور لمبو والا (٦٤) همیشه به وی دوی په هغے کښ همیشه نه به مومی بچ کوؤنکے اونه امدادی (٦٥) په دغه ورځ کښ اړولے راړولے به شی مخونه دَ دوی په اور کښ وائی به دوی هائے ارمان دے چه تابعداری کړے وے مونږ دَ الله تعالیٰ او دَرسول(ﷺ) (٦٦) او وائی به دوی اے ربه زمونږه یقیناً مونږ تابعداری کړے وه دَ سردارانو خپلو او غټانو خپلو نو ګمراهان ئے کړو مونږ دَ حق لارے نه (٦٧) اے ربه زمونږ ورکړے دوی ته دوچند دَ عذاب نه او لعنت اوکړه په دوی باندے لعنت لوے (٦٨) اے ایمان والو مه کیږئ پشان دَ هغه کسانو چه تکلیفونه ئے رسوَل موسیٰ(علیه السلام) ته نو بچ اوساته هغه لره الله تعالیٰ

[٦٠، ٦١، ٦٢] په دے ایاتونو کښ زجراو تخویف دنیوی دے منافقینوته دَپاره دَتاکید دَتیرشوی حکم۔ ﴿سُنَّةَ اللّٰهِ﴾یعنی چاچه دَ انبیاؤ مخکښنو ارجاف کړے دے په هغوی باندے ئے طعنونه اعتراضونه کړی دی نو الله تعالیٰ هغوی مغلوب ملعون کړی دی او دَ دنیا عذابونه ئے ورکړی دی ۔ په دے ایاتونو کښ ئے تخویف مؤکد کړے دے په اووه طریقو سره۔

[٦٣] داهم زجردے منافقینوته۔ هرکله چه دوی په عذاب سره اویرولے شول نو دوی دَ قیامت په باره کښ تپوسونه شروع کړل دَپاره دَ تلبیس اچولوپه مؤمنانو باندے او دَ پاره دَ چپ کولودَ نبی ﷺ دَ جواب نه۔

[٦٤، ٦٥، ٦٦، ٦٧، ٦٨] په دے ایتونوکښ تخویف اخروی دے په اته طریقوسره۔ لعنت، سعیر، خلود، ابد، لایجدون ولیاً، ولانصیرا، ارمان په اطاعت دَالله او رسول پسے، برائت دَ الهۂ باطلونه ﴿اَطَعْنَا اللّٰهَ وَاَطَعْنَا الرَّسُوْلَا﴾ هرکله چه دَ دے سورة مقصد ترغیب اطاعة الله والرسول وؤ نو دَ هغے په مناسبت سره ئے دا تخویف ذکرکړو۔ اودا تمناً په دے سبب سره ده چه دَ دوی یقین راغے چه نجات صرف په اطاعت دَالله تعالیٰ اودَ رسول دَهغه کښ دے﴿سَادَتَنَا﴾ مراد دَ دے نه هغه پیران او ملایان دی چه دوی ته ئے دعوت

مِمَّا قَالُوْا ؕ وَكَانَ عِنْدَ اللّٰهِ وَجِيْهًا ﴿٦٩﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَقُوْلُوْا قَوْلًا سَدِيْدًا ﴿٧٠﴾
يُّصْلِحْ لَكُمْ اَعْمَالَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ ؕ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيْمًا ﴿٧١﴾

دَ هغې نه چه دوی وئیل او دے وؤ په نیز دَ اللّٰه تعالیٰ مخوریز (٦٩) اے ایمان والو ویره کوئے دَ اللّٰه تعالیٰ نه او وائے وینا برابر (دَ شرع سره) (٧٠) نو قبول به کړی تاسو لره عملونه ستاسو او بخنه به اوکړی تاسوته دَ ګناهونو ستاسو او چاچه تابعداری اوکړه دَ اللّٰه تعالیٰ او دَ رسول دَهغه نو یقیناً کامیاب شو په لویه کامیابے سره (٧١)

دَکفراوشرك اوبدعاتو ورکړے وؤاودوی دَ هغوی تقلید کړے وؤ ﴿كُبَرَآءَنَا﴾ مراد ترینه اقتدارواالادی چه په رعیت کښ ئیے دَ فسق وفجور او خلاف دَ کتاب اللّٰه او سنت رسول اللّٰهﷺ نه احکام او قوانین جاری کړے وی اورعیت دَهغوی تابعداری کوی۔ایت اګرچه صریح دے په تقلیدکولودَ ګمراهانو کښ لیکن دلالةً پکښ هغهٔ تقلید شخصی داخل دے چه یوعالم خطاشوے وی اجتهاداً او مقلد دَ هغه ته معلوم شی چه داقول دَ دهٔ خلاف دے دَ قرآن اوسنّت نه یعنی بے دلیله دے لیکن بیاهم هغهٔ قول نه پریږدی نودا هم تقلید مذموم دے۔

[٦٩] دابل خطاب دے مؤمنانوته۔ هرکله چه ذکرشوه سزا دَ اذیت ورکونکو نبیﷺ ته اومعلومه شوه چه دا عادات دَ کافرانواودَمنافقانودی نواوس منع کوی مؤمنانولره دَایذاء دَرسول اللّٰهﷺ نه اودَ تشبیه دَیهودیانونه ﴿كَالَّذِيْنَ اٰذَوْا مُوْسٰى﴾ ایذا موسیٰعليه السلام ته یوداوه چه انکار اوکړو دوی دَ قتال نه او اُوئیل (اِذْهَبْ اَنْتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلَا اِنَّا هٰهُنَا قٰعِدُوْنَ) اودے ته اشاره ده په سورة صف(٥) کښ ۔دویمه ایذاء داوه چه په هغهٔ باندے ئیے بدنامه لګولے وه چه دهٔ خپل رورهارونعليه السلام قتل کړے دے۔ دریمه هغه ده چه امام بخاری حدیث دَ ابوهریرهﷺ نقل کړیدے چه موسیٰعليه السلام دَ بنی اسرائیلو نه جدا په تنهائیے کښ غسل کوؤاو دوی به په یوځائیے غسل کوؤنودوی اُوئیل چه موسیٰعليه السلام زمونږ نه جدا دَ دے وجے نه لامبی چه دهٔ باندے مرض دَ اُدرة(خصیے پرسیدل) دے یا په دهٔ باندے مرض دَبرص(برګے)دے ﴿وَكَانَ عِنْدَاللّٰهِ وَجِيْهًا﴾ یعنی دوی په دے بدنامولګولوسره دَ هغهٔ بے عزتی کول غوښتل لیکن هغهٔ دَ اللّٰه تعالیٰ په نیز باندے عزت مند وؤ نودَ داسے شخص عزت هیڅوك نشی کمولے ۔ وَجِيْهًا، چه مرتبه ئیے اوچته وی دُعاګانے ئیے قبلیږی محبوب وی عزت مندوی۔

[٧٠] دا اخری خطاب دے مؤمنانوته په تقویٰ سره لکه چه اول خطاب دَ نبیﷺ دَ سورة په اول کښ په تقویٰ سره وؤ۔ او تقویٰ جامع لفظ دے هغهٔ احکام چه دَ دے سورة په خطاباتو کښ دی په هغه ټولو باندے عمل کولوته شامل دے۔

[٧١] دا دَ تقویٰ اودَ قول سدید دوه فائدے ذکرکوی، يُّصْلِحْ لَكُمْ اَعْمَالَكُمْ، مراد دے نه په عملونوکښ حسن پیداکول اوعملونه قبلول دی ﴿وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ﴾ اختتام دَاحکاموکښ ئیے داجمله ذکر کړیده ځکه چه دَ ټولواساس اطاعت دَ اللّٰه او دَ رسول دے۔

إِنَّا عَرَضْنَا الْأَمَانَةَ عَلَى السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَالْجِبَالِ فَأَبَيْنَ أَنْ يَّحْمِلْنَهَا وَأَشْفَقْنَ مِنْهَا
وَحَمَلَهَا الْإِنْسَانُ ۖ إِنَّهٗ كَانَ ظَلُومًا جَهُولًا ﴿٧٢﴾ لِّيُعَذِّبَ اللّٰهُ الْمُنٰفِقِيْنَ وَالْمُنٰفِقٰتِ وَالْمُشْرِكِيْنَ
وَالْمُشْرِكٰتِ وَيَتُوْبَ اللّٰهُ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ ۗ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿٧٣﴾ ع

یقیناً مونږ پروانديے کړه ذمه واری په اسمانونو باندے او زمکه باندے او غرونو باندے نو هغوی ځان بچ کړو دَ خیانت کولونه او اویریدل دَ خیانت دَ هغے نه او دَ پورته کولو دَ هغے نه (خیانت کولونه په هغے کښ) انسانانو یقیناً دغه انسان ډیر ظالم اوجاهل دے (۷۲) دپاره دَ دے چه عذاب ورکړی اللّٰه تعالیٰ منافقانو سړو او منافقو زنانوته او مشرکانو سړو او مشرکو زنانۂ ته او توفیق دَ توبے ورکوی اللّٰه تعالیٰ مؤمنانو سړو او مؤمنو زنانو ته او دے اللّٰه تعالیٰ بخنه کوؤنکے رحم کوؤنکے (۷۳)

[۷۲] هرکله چه په سورۃ کښ اداب، اخلاق اواحکام بیان شول اوهم دا امانت دَ اللّٰه تعالیٰ دے په ذمه دَ انسان باندے نو اوس زجرذکرکوی هغه انسان ته چه په داسے امانت کښ خیانت کوی۔ دارنګ تیرشوی ایت کښ دَ اطاعت کوؤنکوحال ئے ذکرکړے دے نواوس دَخیانت کوؤنکوحال ذکرکوی۔ په دے ایت کښ یواشکال دے هغه دا دے چه انسان امانت دَاللّٰه تعالیٰ پورته کړو او قبول ئے کړونو پکار وؤ چه دَ هغه مدح اوتعریف ئے کړے وے لیکن هغه ته ئے لوے ظالم اوډیرجاهل اوئیل او هرکله چه مراد دَ انسان نه خاص آدمﷺ شی بیا خو ډیر بعیده ده چه هغه ته ظلوم اوجهول وئیلے کیږی؟ دَ دے یو جواب داسے کړے شوے دے چه انه ضمیردغه انسان ته نه دے راجع بلکه بل خیانت کړ انسان ته راجع دے لیکن داجواب دَ بلیغ کلام سره مناسب نه دے۔ دویم جواب داسے کړے شوے دے چه آدمﷺ ته ظلوم جهول په معنیٰ لغوی سره وئیلے شویدے لیکن داهم مناسب نه دے۔ غوره جواب دا دے چه امانت نه مراد دَ هریو مناسب ذمه داری ده۔ اسمانونه چه اللّٰه تعالیٰ دَ کوم کارونو اوفائدودپاره جوړکړل اودارنګ زمکه اوغرونه او انسان هم نودوی دپاره امانت (ذمه واری) احکام شرعیه دی چه هغه دَ دوی مناسب دی۔ نو اسمانونواوزمکے اوغرونودا اومنل لکه سورۃ حٰمٓ سجده(۱۱) اوسورۃ حج (۱۸)کښ دی اوانسانانو کښ اکثریت په خپل امانت کښ نقصان اوکړونودے ظالم اوجاهل دے بناپه دے توجیه سره حَمل په معنیٰ دَخیانت کولودے دارنګ تفسیرقرطبی اونورو مفسرینو دَ زجاج نه نقل کړے دے۔

[۷۳] دا دَ امانت په باره کښ دَ دواړوجانبینونتیجے ذکرکوی۔ متعلق دے په حمل پورے یعنی دَخیانت کولونتیجه دا ده چه خیانت کوؤنکوله به عذاب ورکوی چه چاپټ خیانت کړے وی هغه منافقان دی اوچاچه ښکاره کړے وی هغه مشرکان دی۔

سُوْرَةُ سَبَإٍ (۳۴) مَكِّيَّةٌ (۵۸) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۵۴ رُكُوْعَاتُهَا ۶

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ وَلَهُ الْحَمْدُ فِي الْاٰخِرَةِ ؕ وَهُوَ الْحَكِيْمُ الْخَبِيْرُ ۝۱ يَعْلَمُ

ټول صفتونه دَ خدائیتوب خاص اللّٰه تعالیٰ لره دی هغه ذات دے چه دَ هغه په اختیار کښ دی هغه څه چه په آسمانونو کښ دی او هغه څه چه په زمکه کښ دی اوخاص هغه لره هم دا صفتونه دی په آخرت کښ او هغه حکمتونو والا خبردار دے (۱) عالم دے

سورة سبا

فائده: دَ دے سورت نه تراخردَ قرآن کریم پورے څلورمه حصّه ده په الحمد لِلّٰه سره شروع ده اوپه دے حصّه کښ رد دَ شفاعت قهریه شرکیه اودَ هغے دَتفریعاتوچه رد دَ شرك فی العبادة والدعاء دے ذکرکوی او ذکر دَ احوالودَ قیامت اودَ احوالودَ هغے په تفصیل سره اوپه دے حصه کښ دولس بابونه دی اول باب کښ درے سورتونه دی سبا، فاطر، اویٰس په دے سورتونوکښ رد دَ شفاعت قهریه شرکیه په عقلی اونقلی دلیلونوسره کوی۔

ربط: دَ دے سورة دَ ماقبل سره په ډیروجوهو سره دے اوله وجه داده چه تیرشوی سورة کښ ترغیب وؤاطاعت دَ اللّٰه تعالیٰ اودَ رسول ﷺ ته نوپه دے سورة کښ ردِ شدید دے دَ هغوی په مخالفینو او معرضینو باندے او دَ هغوی عذاب او دَ هغوی قبائح ذکرکوی۔ دویمه وجه دا ده چه په هغه سورت کښ شان اوعزت دَ رسول ئیے ذکرکړو نو په دے سورة کښ اثبات دَ رسالت دَ هغهٔ دے په دفع دَ شبهاتو سره دَ توحید او رسالت نه۔

دعویٰ دَ دے سورة: اثبات دَ مقاصدوڅلورو دے توحید اورسالت اوصدق دَ قرآن اواثبات دَ آخرت دے، اثبات دَ توحید دے په رد دَ څلورو طریقو دَ شرك سره اوپه نقلی دلیلونو سره دَ انبیاؤ اوملائکو اوجناتونه یعنی اثبات دَ عجز دَ هغوی اوپه رد دَ څلورو قسمونو دَ شرك فی العلم اوفی التصرف اوفی العبادة او فی الدعاء دے اوپه ذکردَ نورلس(۱۹) اسماء حسنیٰ دَ اللّٰه تعالیٰ سره۔ اواثبات دَ رسالت دے په (۲۸) کښ اوپه دفع دَشبهے سره په (۳۵،۳۴) کښ اوپه ذکردَ طریقودَ تعلیم سره چه په اول کښ لفظ دَقل راغلے دے۔اواثبات دَصدق قرآن په(٦)اوپه تخویف سره منکرینوته په (۳۱)کښ اوپه زجرسره په (٤۳) کښ اواثبات دَقیامت دے په قسم سره په (۳) کښ اوپه زجرسره منکرینوته په (۷) اوپه (۲۹) کښ اوپه ذکردَ احوالودَ قیامت سره۔

خلاصه دَ سورة : داسورة تقسیم دے څلورو بابونوته اول باب تر(۱۰) پورے دے په دے کښ اول دعویٰ دَ توحید ده اوپه هغے عقلی دلیلونه په(۲،۱) کښ بیااثبات دَقیامت په قسم سره په(۳) کښ بیابشارت اوتخویف(٥،٤) کښ بیااثبات دَ صدق دَ قرآن په دلیل نقلی سره په(٦) کښ بیازجرمنکرینودَ قیامت اودَ رسول ته په(۸،۷) کښ بیا تخویف دنیوی په(۹) کښ ذکرکړے دے۔

تفسیر

[۱] په دے کښ دعویٰ دَتوحید ده اوپه هغے کښ دلیل عقلی دَ توحید دے دَ تصرف۔ ﴿وَلَهُ الْحَمْدُ فِي

مَا يَلِجُ فِي الْأَرْضِ وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا وَمَا يَنْزِلُ مِنَ السَّمَآءِ وَمَا يَعْرُجُ فِيهَا ۭ وَهُوَ الرَّحِيْمُ الْغَفُوْرُ ۝ وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَا تَاْتِيْنَا السَّاعَةُ ۭ قُلْ بَلٰى وَرَبِّيْ لَتَاْتِيَنَّكُمْ ۙ عٰلِمِ الْغَيْبِ ۚ لَا يَعْزُبُ عَنْهُ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ فِي السَّمٰوٰتِ وَلَا فِي الْاَرْضِ وَلَآ اَصْغَرُ مِنْ ذٰلِكَ وَلَآ اَكْبَرُ اِلَّا فِيْ كِتٰبٍ مُّبِيْنٍ ۝ لِّيَجْزِيَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ۭ اُولٰۗىِٕكَ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّرِزْقٌ كَرِيْمٌ ۝ وَالَّذِيْنَ سَعَوْ فِيْٓ اٰيٰتِنَا مُعٰجِزِيْنَ اُولٰۗىِٕكَ لَهُمْ عَذَابٌ مِّنْ رِّجْزٍ

په هغه څه چه ورننوځي په زمکه کښ او په هغه څه چه را اوځي دَهغے نه اوپه هغه څه چه راکوزیږی دَ اسمان نه اوپه هغه څه چه ورخیژی اسمان ته او هغه رحم کوؤنکے بخنه کوؤنکے دے (٢) او وائي هغه کسان چه کفرئے کړے دے نه راځي مونږ ته قیامت ته اُوایه هاں قسم دے په رب زما راځی به قیامت عالم دے اللّٰه تعالیٰ په ټولو غیبو باندے نشی پټیدلے دَ هغه نه په وزن دَ یو ذرے په اسمانونو کښ اونه په زمکه او نیشته وړو کے دَ دے نه او نه لوے مګر په کتاب ښکاره کښ دی (٣) دَ دے دپاره چه بدله ورکړی هغه چاته چه ایمان ئیے راوړے دے او عمل ئیے کړے دے دَ سنت موافق دغه کسان دوی لره بخشش او رزق عزت والا دے (٤) او هغه کسان چه کوشش کوی په اياتونو زمونږ کښ مقابله کوؤنکی دغه کسان دوی لره عذاب دے دَسخت عذاب نه

الْاٰخِرَةِ﴾ اول الحمدالله حمد دَ دنیاته اشاره ده نو ورپسے حمد دَ اخرت ذکر کړے دے یعنی په اخرت کښ به هم ټول بندګان خاص اللّٰه تعالیٰ دپاره حمد وائي۔

[٢] دادویم دلیل عقلی دے اول دلیل دَ تصرف دے اودا دلیل علمی دے ځکه چه تصرف بغیرَعلم نه نشی کیدلے۔ اوپه دے دلیلونوسره اثبات دَ توحید اواثبات دَ قیامت دواړه مقصود دی ﴿مَا يَلِجُ فِي الْأَرْضِ﴾ اوبه،تخم، مالونه اومردګان وغیره مراد دی ﴿وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا﴾اوبه معدنیات،بوټی اونے وغیره مراد دی۔ ﴿وَمَا يَنْزِلُ مِنَ السَّمَاءِ﴾ وحی، ملائك، اوبه وغیره مراد دی ﴿وَمَا يَعْرُجُ فِيهَا﴾ ملائك، نیك اعمال اوکلمات طیبه وغیره مراد دی۔

[٣] روستود دَ ذکردَ آخرت نه په(١)کښ زجردے منکرینودَ هغے ته اودَ هغے اثبات کوی په قسم کولو سره په خپل ذات باندے اودا دریم سورة دے چه په هغے کښ قسم دے په ذات دَ رب باندے په باره دَقیامت کښ﴿عٰلِمِ الْغَيْبِ﴾ صفت دَ رب دے یعنی عالم دے په ارواحواوپه اجساموادَ هغے په اجزاؤاګرچه بعض ټکړے دَ ذرے په مقداروی او بعضے دَ هغے نه غټے ټکړے وی۔ او بعضے دَ هغے نه نرئے ټکړے وی۔

[٤] په دے ایت کښ بشارت دے اوذکردَ علت دے دپاره دَ قیامت۔ په ایت کښ ایمان اوعمل صالح ذکرکړے دے نوجزا کښ ئیے هم (مغفرت اورزق کریم) دواړه په ترتیب سره ذکر کړل۔ ﴿كَرِيْمٌ﴾ یعنی دَفائدونه ډك دے هیڅ نقصان په کښ نیشته اوپه حاصلولوکښ ستړے والے نیشته اوحساب پکښ هم نیشته۔

اَلِيْمٌ ۝٥ وَيَرَى الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ الَّذِيْٓ اُنْزِلَ اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ هُوَ الْحَقَّ ۙ وَيَهْدِيْٓ اِلٰى صِرَاطِ الْعَزِيْزِ
الْحَمِيْدِ ۝٦ وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا هَلْ نَدُلُّكُمْ عَلٰى رَجُلٍ يُّنَبِّئُكُمْ اِذَا مُزِّقْتُمْ كُلَّ مُمَزَّقٍ ۙ اِنَّكُمْ لَفِيْ
خَلْقٍ جَدِيْدٍ ۝٧ اَفْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا اَمْ بِهٖ جِنَّةٌ ۭ بَلِ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ فِي الْعَذَابِ وَالضَّلٰلِ
الْبَعِيْدِ ۝٨ اَفَلَمْ يَرَوْا اِلٰى مَا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ مِّنَ السَّمَاۗءِ وَالْاَرْضِ ۭ اِنْ نَّشَاْ نَخْسِفْ بِهِمُ الْاَرْضَ
اَوْ نُسْقِطْ عَلَيْهِمْ كِسَفًا مِّنَ السَّمَاۗءِ ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّكُلِّ عَبْدٍ مُّنِيْبٍ ۝٩ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا دَاوٗدَ مِنَّا فَضْلًا ۭ ع

درد ناك (٥) اوعقیده لری هغه کسان چه ورکړے شویدے هغوی ته علم چه هغه کتاب نازل کړے شوے دے تاته ستا دَ رب دَ طرف نه هغه حق دے او هدایت کوی لارے دَ زوراور او ستائیلے شوی ذات ته (٦) او وائی کافران (یوبل ته) ایا اوښایو مونږ تاسو ته داسے سړے چه خبر در کوی تاسوته چه هرکله ذرے ذرے شئ تاسو په پوره ذرے کیدلو سره یقیناً تاسو به په نوی پیدائش کښ ئے (٧) ایا جوړ کړیدی په اللّٰه تعالیٰ باندے دروغ (په قصد سره) یا په دهٔ باندے لیونتوب دے (نو دروغ وائي بے ارادے) بلکه هغه کسان چه ایمان نه لری په اخرت باندے په عذاب کښ دی او په ګمراهئ لرے کښ دی (٨) ایا نو دوی نه ګوری هغه څه ته چه رواندے دَ دوی دی او روستو دَ دوی دی چه اسمان او زمکه ده که چرے او غواړو مونږ خخ به کړو دوی لره په زمکه کښ یا به را او غورځوؤ مونږ په دوی باندے ټکړے دَ اسمان نه یقیناً په دے کښ ضرور عبرت دے دپاره دَهر بنده دَ حق طلبګار (٩) او یقیناً ورکړیدے مونږ داؤد(علیه السلام) ته زمونږ دَ طرفنه غوروالے

[٥] دا تخویف اُخروی دے هغه چاته چه دَ ایاتونودَ اللّٰه تعالیٰ سره مقابله کوی ﴿فِيْٓ اٰيٰتِنَا﴾ په باطلولودَ ایاتونو کښ اوپه تحریف دَهغے کښ او ﴿مُعٰجِزِيْنَ﴾ قید دے دَ ﴿سَعَوْ﴾ دپاره۔ یعنی کوشش دَهغے دَایزده کولونه کوی بلکه مقابله کوؤنکي دی یا عاجزکوؤنکی دی اللّٰه تعالیٰ لره دَ رانیولودَ دوی نه په خپل ګمان کښ۔

[٦] دا دلیل نقلی دے دَ اهل کتابونه په مقابله دَ مُعَاجِزِيْنَ،کښ یعنی دوی مُصَدِّقِيْنَ (تصدیق کوؤنکی) دی ﴿الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ﴾ دَ دے نه مراد توحید والادے که کتابی وی او که غیرکتابی وی۔

[٧] په دے کښ زجردے په انکارد قیامت باندے سره دَ انکار دَ رسول نه۔

[٨] داهم زجرکښ داخل دے۔ تقابل په مینځ دَ دواړه جملوکښ دا دے چه افتراً نه مراد دا دے چه سړهٔ دَ عقل اودَ قصد نه ئے په اللّٰه تعالیٰ باندے دروغ جوړ کړیدی او ﴿اَمْ بِهٖ جِنَّةٌ﴾ مقصد دا دے چه عقل پکښ نیشته نوبغیرد قصداودَ ارادے نه ئے دروغ وئیلی دی یعنی دروغ ئے ضرور وئیلی دی لیکن یائے قصداً جوړکړی دی یا بے قصده ﴿الْبَعِيْدِ﴾ داسے ګمراهی چه دَحق سره هیڅ مناسبت نه لری اوداسے تباهی چه منتهیٰ ئے نده معلومه۔

[٩] په دے ایت کښ تخویف دنیوی دے هرکله چه تیرشوی ایت کښ دَ عذاب ذکر اوشونو په دے ایت کښ دَ عذاب دَ قسمونو ذکر کوی۔ او مراد دَ مابین ایدیهم او وماخلفهم، نه ټول طرفونه دی یعنی په انسان باندے اسمان او زمکے دَ هرطرف نه احاطه کړے ده ﴿مُنِيْبٍ﴾ هغه انسان چه حق طرفته ګرځی په دلیل سره اوهیڅ ضد تعصب پکښ نه وی او انابت شرط دے دپاره دَ تابعداریٔ دَ دلیل۔

يٰجِبَالُ اَوِّبِيْ مَعَهٗ وَالطَّيْرَ ۚ وَاَلَنَّا لَهُ الْحَدِيْدَ ۝١٠ اَنِ اعْمَلْ سٰبِغٰتٍ وَّقَدِّرْ فِي السَّرْدِ وَاعْمَلُوْا صَالِحًا ۭ اِنِّىْ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ۝١١ وَلِسُلَيْمٰنَ الرِّيْحَ غُدُوُّهَا شَهْرٌ وَّرَوَاحُهَا شَهْرٌ ۚ وَاَسَلْنَا لَهٗ عَيْنَ الْقِطْرِ ۭ وَمِنَ الْجِنِّ مَنْ يَّعْمَلُ بَيْنَ يَدَيْهِ بِاِذْنِ رَبِّهٖ ۭ وَمَنْ يَّزِغْ مِنْهُمْ عَنْ اَمْرِنَا نُذِقْهُ مِنْ عَذَابِ

(وئیلی وؤمونږ) اے غرونو تسبیح وائے دَ دهٔ سره او تابع کړی وؤ مونږ مارغان اونرمه کړے وه مونږ دهٔ لره اوسپنه (۱۰) چه جوړوه پوره زغرے او انداز ساته په یو ځائیے کولو دَ کړو کښ او عمل کوئے نیك یقیناً ځه ستاسو عملونو لره لیدونکے یم (۱۱) او تابع کړے وه مونږ سلیمان(علیه السلام) لره هوا مزل دَ صبائی دَ هغے یو میاشت وؤ او مزل دَ مازیګری یو میاشت وؤ او بَیولے وه مونږ هغه لره چینه دَ تانبے او دَ پیریانو نه داسے کسان وؤ چه کار به ئے کوؤ دَ هغه په مخکښ په حکم دَ رب دَهغه سره او څوك چه به کوڼ شو دَ دوی نه دَ حکم زمونږ نه او به څکوؤ مونږ هغه ته دَ عذاب

[۱۰] دَ دے ایت نه دویم باب دے تر(۲۲) پورے په دے کښ حالات دَ داؤد اوسلیمان علیهما السلام اوحال دَجناتوذکر کوی دَپاره دَ دفع دَشبهاتوپه توحید باندے اودلیلونه نقلیه هم دی په بیان دَ احتیاج او دَعبدیت دَ دوی سره بیا مثال دَ اصحاب سبا ذکر کوی دَپاره دَ تخویف دنیوی او بیا عداوت دَ شیطان ذکرکوی چه سبب دَ شبهاتواودَ نزول دَعذاب دے۔ په د ے(۱۰)کښ واقعه دَ داؤد(علیه السلام) ده اوپه دے کښ جواب دَسوال دے چه دَ داؤد(علیه السلام) دَحالاتونه معلومیږی چه دَ هغه ډیرطاقت او قدرت وؤپه غرونو او مارغانو او اوسپنه باندے نومعلومه شوه چه دَحاجت روائیے قدرت ئیے هم لرلواوشفیع قهری هم کیدے شی حاصل دَ جواب دادے چه غرونه اومارغان تابع کول اواوسپنه نرمول دا ټول کار اوقدرت دَ اللّٰه تعالیٰ دے دَ داؤد(علیه السلام) په هغے کښ اختیارنه وؤدا معجزات دی اودَ نبی قدرت په معجزاتوکښ نه وی اودَ دے وجے نه په دے کارونوکښ اللّٰه تعالیٰ ځان ته نسبت کړیدے اوبل مقصد په دے واقعه کښ ذکرد قدرت دَ اللّٰه تعالیٰ دے په ذکرد امورخلاف دَ عادت نه نودلیل شوچه اللّٰه تعالیٰ په دوباره ژوندی کولوقادردے۔ اودارنګ دا دلیل نقلی دے په توحید باندے۔ اوجبال اوطیر ئیے دَ دے وجے نه ذکرکړل چه غرونه ډیرسخت دی اومارغان دَانسان نه ډیرنفرت کوؤنکی دی لیکن هرکله چه دوی دَ داؤد(علیه السلام) ملګرتیاکوله نومعلومه شوه چه اونے اوبوتی وغیره ئیے هم تابع وو۔ لیکن هغه انسانان چه دَکتونه ئیے زړونه ډیرسخت وی نوهغوی ئیے مخالفت کوؤ ﴿وَاَلَنَّا لَهُ الْحَدِيْدَ﴾ دَغرونونه ډیرسخت ځیزاوسپنه ده نودَ هغے تسخیرهم ذکرکوی۔ هرکله چه داؤد علیه السلام دَ جهاد سره محبت ډیرلرلواودارنګ دَ خپل لاسونوکتې ئیے خوښه وه نواللّٰه تعالیٰ ورته اوسپنه نرمه کړله بغیرد اور اوبغیرد ټکولونه په پلکونواوستکونو سره به ئیے دَ هغے نه کړئ جوړه ولے۔

[۱۱] ﴿وَقَدِّرْ فِي السَّرْدِ﴾ سرد په معنیٰ دَ جوړولودَ زغرو دے اوکړئے په یوبل کښ ورکول دی اودَ ﴿قَدِّرْ﴾ دوه معنے دی اوله معنیٰ داچه کړئے په اندازه جوړوه نه ډیرے فراخے اونه ډیرے تنګے اونه ډیرے غټے اونه ډیرے نرئے دَپاره دَ دے چه غشے اوتوره وربانديے اثرنه کوی اونه په بدن باندے درنے وی اوبقاعی وئیلی دی چه په دغه زغرو کښ میخونه نه وو بعضو چه لیدلے وے نو داسے خبرئیے راکړے دے اودا دَ دے وجے نه چه اوسپنه نرمه وه نومیخونه وهلوته حاجت نه وؤ۔ دویمه معنیٰ دا ده چه دا کسب دنیوی دے نو دَ دے

السَّعِيْرِ ﴿۱۲﴾ يَعْمَلُوْنَ لَهٗ مَا يَشَآءُ مِنْ مَّحَارِيْبَ وَتَمَاثِيْلَ وَجِفَانٍ كَالْجَوَابِ وَقُدُوْرٍ رّٰسِيٰتٍ ؕ اِعْمَلُوْٓا اٰلَ دَاوٗدَ شُكْرًا ؕ وَقَلِيْلٌ مِّنْ عِبَادِيَ الشَّكُوْرُ ﴿۱۳﴾ فَلَمَّا قَضَيْنَا عَلَيْهِ الْمَوْتَ مَا دَلَّهُمْ عَلٰى مَوْتِهٖٓ اِلَّا دَآبَّةُ الْاَرْضِ

دَ اور لمبو والا نه (۱۲) جوړول به دوی هغه لره څه به چه هغه غوښتل عبادت خانے او نمونے دَ اباد ئے او خانکونه چه پشان دَ حوضونو وؤ او دیګونه ولاړپه خپل ځا ئیے باندے عمل کوئے اے اولاد دَ داؤد علیه السلام دَ شکر کولو اولګ دی دَ بندګانو زما نه شکر ګذار (۱۳) نو هر کله چه فیصله او کړه مونږ په هغه باندے دَمرګ خبر ورنکړو دوی ته په مرګ دَ هغه مګر یو چینجے دَ زمکے (وینه)

دپاره ورځے او وخت اندازه کړه ټوله ورځ په دے مه لګوه بلکه ډیر وخت دَ عمل صالح دپاره صرف کړه چه هغه مقصد اصلی دے دَ دے وجے نه ورپسے اوفرمائیل: ﴿وَاعْمَلُوْا صَالِحاً﴾۔

[۱۲] په دے کښ دویمه واقعه ده په جواب دَشبهه کښ چه دَ سلیمان علیه السلام بادشاهی په هوا اوپه جناتو او مارغانو باندے دلالت کوی چه دے دَ لوے تصرف اوقدرت مالك وؤ؛ حاصل دَ جواب دا دے چه دا قدرت دَ اللّٰه تعالیٰ وؤ دَ سلیمان علیه السلام په هغے کښ اختیارنه وؤ دَ دے وجے نه اللّٰه تعالیٰ ځان ته نسبت کوی او دارنګ واقعه دلیل نقلی دے په توحید اوپه بعث بعد الموت باندے ﴿بِاِذْنِ رَبِّهٖ﴾ په دے کښ اشاره ده چه دَ هغهٔ سره (سِحر) جادونه وؤ لکه چه یهودیان وائي بلکه دَ اللّٰه تعالیٰ اذن وؤ ﴿مِنْ عَذَابِ السَّعِيْرِ﴾ مراد ترینه اوردَ جهنم دے یامراد په دنیاکښ چه ملائك په دے جناتوباندے مقرر وو چابه چه دَ حکم دَ سلیمان علیه السلام نافرمانی او کړله نو دَ اور په چابك (کوړه) باندے به ئے وهلو۔

[۱۳] په دے کښ تسخیردَ جن اودَ هغوی کارونه ذکرکوی ﴿مَحَارِيْبَ﴾ محراب په بنی اسرائیلو کښ خاص عبادت خانه دَامام اوعالم دپاره وه یا مراد ترینه اوچتے اباد ئے دی یا مراد ترینه مساجد دی اوپه دے کښ مسجد بیت المقدس هم داخل دے چه داهم جناتوجوړ کړے وؤ لیکن محراب زمونږدَ زمانے ترینه مرادنه دے ﴿وَتَمَاثِيْلَ﴾ مراد دَ دے نه نقش ونګار دے دَ اونواوبوټوپه شکلونوجوړولوسره۔ اوچاچه وئیلی دی چه مراد دَ دے نه تصاویردَ انبیاؤاوبزرګانووؤچه دوی به په عبادت خانو کښ کیخودل صرف دَ رغبت دپاره اودا دَدوی په دین کښ جائزوودا قول صحیح نه دے دلالت کوی دَ دے په خلاف باندے هغه حدیث صحیح (أُولٰئِكَ اذامات فيهم الرجل الصالح بنوا على قبره مسجداً وصوروا فيه تلك الصور أُولٰئك شرار الخلق عندالله) مشکوٰة، دَ دے نه معلومیږی چه مسجدونه په قبرونوباندے جوړول اوپه هغے کښ دَنیکانوتصاویرجوړول دواړه کارونه دَ شرك اودَ فساد عمل دے ﴿وَجِفَانٍ كَالْجَوَابِ﴾ یعنی لښکر او نوکران اومیلمانه به دَ سلیمان علیه السلام ډیر زیات وو دَ هغوی دَ خوراك دَپاره لوے لوے لوښی پکار وو ﴿وَقُدُوْرٍ رّٰسِيٰتٍ﴾ هرکله چه دَ خانکونوحال ئے بیان کړونواوس دَ دیګونو حال بیانوی چه هغه دومره غټ ووچه دَ ځائے نه به چانه شو خوځولے صرف پخلے به پکښ کیدلو بل طرف ته ئے اوړل اونقل کول ګران کار وؤ ﴿وَقَلِيْلٌ مِّنْ عِبَادِيَ الشَّكُوْرُ﴾ شکورئیے په صیغه دَ مبالغے سره دَ دے وجے نه ذکرکړوچه لږشکر کوؤنکی خومشرکان اوکافران هم دی هغوی هم په حالت دَ اضطرارکښ دَ اللّٰه تعالیٰ شکر کوی لیکن په هروخت اوپه هر نعمت اوپه هر قوت یعنی په ژبه زړه اواندامونو اومال سره دَ اللّٰه تعالیٰ شکر اداکوی نو

تَاْكُلُ مِنْسَاَتَهٗ ۚ فَلَمَّا خَرَّ تَبَيَّنَتِ الْجِنُّ اَنْ لَّوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ الْغَيْبَ مَا لَبِثُوْا فِي الْعَذَابِ الْمُهِيْنِ ﴿۱۴﴾ لَقَدْ كَانَ لِسَبَاٍ فِيْ مَسْكَنِهِمْ اٰيَةٌ ۚ جَنَّتٰنِ عَنْ يَّمِيْنٍ وَّشِمَالٍ ۭ كُلُوْا مِنْ رِّزْقِ رَبِّكُمْ وَاشْكُرُوْا لَهٗ ۭ بَلْدَةٌ

چه خوړله ئې همسا دَ هغه نو هر کله چه هغه را پریوتلو ښکاره شو حال دَ پیریانو چه که چرے دوی پوهیدلے په غیبو باندے نو نه به وؤ ایسار شوی په سخت کارونو ذلیلوؤنکو کښ (۱٤) یقیناً وؤ دپاره دَسباوالو په کورونو دَ هغوی کښ دلیلونه دَ توحید باغونه وؤ دَځی طرف او دَکس طرف نه خورئ دَ روزئے دَ رب ستاسو نه او شکر کوئے هغه لره دا ښار ستاسو

داډیرلږ خلق دی دَد ے وجے نه قرآن کښ دَ مشرکانو اوناشکر و اوبے عقلو او بے عملو ذکر ئے په لفظ دَ اکثرسره کړے دے۔

[۱٤] په دے ایت کښ ذکرکوی عجزدَسلیمان علیہ السلام په دوه طریقوسره اول داچه په دهٔ باندے مرګ راغلے دے دَمرګ نه ئے ځان نشوبچ کولے دویم داچه روستودَ مرګ نه هیڅ حرکت اواختیار وقدرت په کښ نه وؤځکه چه همساکمزورے شوه دَ دهٔ دَ ټینګولونه نودے په زمکه باندے را اوغورځیدلونومعلومه شوه چه مرده ګان دَهیڅا مدد اوحاجت روائي نه شی کولے دَ ځان اختیارنه لری نودَبل چاسره به څه امداد اوکړی۔ اودارنګ په دے ایت کښ ذکرکوی حال دَجنّاتوچه دوی هم په غیب باندے نه پوهیږی نو په دے سره جواب دَ دریمے شبهے دے په باره دَ جناتو کښ چه دَ بعضو خلقو په بنی اسرائیلو او دارنګ په دے امت کښ هم دا عقیده ده چه پیریان په غیبوباندے خبردی نو په دے ایت کښ دَ هغوی جواب اوشو چه دَ سلیمان علیہ السلام دَ مرګ نه تریو کال پورے هم دوی خبرنه وو۔ بیا دَ دے اسباب مفسرینو دوه ذکرکړیدی۔ اول داچه په انسانانو کښ په هغه وخت کښ مشهوره وه چه جنات په غیب باندے پوهیږی نو سلیمان علیہ السلام دَ خپل مرګ په وخت کښ داسے کار اوکړو او دَ اللّٰه تعالیٰ نه ئے سوال هم اوکړو چه زما مرګ دَ دوی نه پټ اوساتے دپاره دَ دے چه دَ خلقودَ زړونونه داغلطه عقیده ختم شی ۔دویم سبب دا وؤ چه سلیمان علیہ السلام دَ جناتوپه ذریعه سره دَ بیت المقدس ابادی کوله اګر چه ابادی دَ هغه په ژوند کښ ختم شوه لیکن دَ هغے دَ اکمال او اتمام باره کښ څه عمل دَ پیریانوباقی پاتے شوے وؤ نودهٔ دَ اللّٰه تعالیٰ نه دُعا اوکړه چه ځمامرګ دَ جناتونه یوکال پورے پټ اوساتے دپاره دَ دے چه داکار پوره کړی ځکه چه هغوی دَ سلیمان علیہ السلام دَ ویرے نه کارونه کول او دَ نسائي دَ حدیث صحیح نه معلومیږی چه سلیمان علیہ السلام ابادئے دَ مسجدنه فارغ شوے وو لیکن دَ هغے متعلق څه اعمال باقی پاتے وو۔ او قرطبی نقل کړی دی چه صحیح سندونو سره ثابت ده چه سلیمان علیہ السلام تریوکال پورے په همسا باندے ولاړ وؤ ﴿تَبَيَّنَتِ الْجِنُّ اَنْ﴾ یومعنیٰ دا ده چه پیریانوته خپل حال ښکاره شو چه دوی علم غیب نه لری دویمه معنیٰ دا ده چه انسانانوته ښکاره شوه په باره دَپیریانو کښ چه دوی په غیب باندے نه پوهیږی۔

طَيِّبَةٌ وَّرَبٌّ غَفُوْرٌ ﴿۱۵﴾ فَاَعْرَضُوْا فَاَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ سَيْلَ الْعَرِمِ وَبَدَّلْنٰهُمْ بِجَنَّتَيْهِمْ جَنَّتَيْنِ ذَوَاتَيْ اُكُلٍ خَمْطٍ وَّ
اَثْلٍ وَّشَيْءٍ مِّنْ سِدْرٍ قَلِيْلٍ ﴿۱۶﴾ ذٰلِكَ جَزَيْنٰهُمْ بِمَا كَفَرُوْا ؕ وَهَلْ نُجٰزِيْٓ اِلَّا الْكَفُوْرَ ﴿۱۷﴾ وَجَعَلْنَا بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ

دَ مزونه ډك دے او رب بخنه کوؤنکے دے (۱۵) نو دوی مخ واړو دَ توحید نه نو را اولیږل مونږ په دوی باندے سیلاب دَ بند تړلے شوی او ورکړو مونږ دوی ته په بدل دَ باغونو دَ دوی کښی نور باغونه چه په هغے کښی بے خونده میوے وے او غزان وؤ او یو قسم وؤ دَ بیرو نه لګے وے (۱۶) دا سزا ورکړه مونږ دوی ته په وجه دَ کفر کولو دَ دوی او داسے سزانه ورکوؤ مونږ مګر ډیر منکرته (۱۷) او جوړ کړے مونږ په مینځ دَ دوی او دَهغه

[۱۵] دا نمونه ده دَ تخویف دنیوی په حال دَ اهل سبا سره دَپاره دَمنکرینورو ستودَ جواب دَشبهاتونه اوپس دَ دلیل نقلی نه۔ اودارنګ محکمیږ حال دَ هغه بادشاهانوذکرشوچه شکرګذار وواوس حال دَهغه مالداروذکرکوی چه ناشکری کوی ﴿لِسَبَاٍ﴾ دانوم دَمشرد قبیلے ووچه هغه سبا بن عبد شمس بن یشجب بن یعرب بن قحطان وؤ اودَ هغهٔ نسل ته هم اهل سبا وئیلے کیږی بعضے روایاتوکښی راغلی دی چه دَ سبا لس ځامن ووشپږپه یمن کښی اباد وو اوځلور په شام کښی۔ مفسرینو وئیلی دی چه دادَ صنعاء الیمن نه درے فرسخه مآرب مقام وؤ ﴿بَلْدَةٌ طَيِّبَةٌ﴾ اب وهوائیے صحت منده وه زهریلی حیوانات پکښی نه وؤخوره ناکه زمکه پکښی نه وه۔

[۱۶] په دے ایت کښی سبب دَ عذاب اوتفصیل دَ عذاب ذکرکړے دے ﴿فَاَعْرَضُوْا﴾ دا سبب دَ عذاب دے بعض روایاتو کښی دی چه دوی ته دیارلس انبیاء راغلی وؤاودوی ته ئے توحید بیان کړے وولیکن دوی ترینه مخ اوګرځوؤ ﴿فَاَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ سَيْلَ الْعَرِمِ﴾ داذکر دَ عذاب دے یعنی دوی یو لوی بند جوړ کړے وؤاوپه هغے کښی بارانی اوبه یا دَیوسیند اوبه جمع کړے وے اودَهغے نه ئے نهرونه جداکړی ووپه هغے سره ئے باغونه فصلونه اوبه کول اودیته ډیم وئیلے کیږی۔نوهغه بند (دیوال)کښی سورے اوشواوبندمات شواواوبه دَسیلاب په طورسره دَ دوی په باغونواو ابادوباندے راغلے اوهرکله چه دا عذاب الٰهی وؤنوهغه اوبوکښی زهریلی ماده هم پیداشوه هغه باغونه ئے بیکاره کړل اودَهغے میوؤنه ئے خوګوالے ختم شو اوبے خونده شوے ﴿اُكُلٍ خَمْطٍ﴾ مبّرد وائی چه میوه داسے حالت ته بدله شی چه اشتهاورته دَچا نه کیږی نوهغے ته خمط وائی۔ اوابوعبید وائي هره اونه ازغی داره چه ترخه وی خوړلے کیدے نشی هغے ته خمط وائی ﴿وَاَثْلٍ﴾ ځکه چه دَ غزاونه کښی میوه نیشته اودَ هغے لرګے اوسورے بے فائدے وی ﴿سِدْرٍ قَلِيْلٍ﴾ دا دوه قسمه دی یوته بیره وئیلے کیږی دَ هغے میوه کرکنړے دی اوبل قسم ته جاړه وئیلے کیږی په هغے کښی ازغی زیات وی اودانے پکښی نه وی یا بیکاره وی او په صحراکښی وی دلته داروستو قسم مراد دے۔

[۱۷] په دے کښی تفسیردَ فَاَعْرَضُوْا، دے یعنی اعراض کفردے ﴿وَهَلْ نُجٰزِيْٓ اِلَّا الْكَفُوْرَ﴾ دلته مراد دَ سزانه استیصالی (دَ بیخ کندئے) سزا ده لکه چه په اصحاب سبا باندے راغلے وه دغه سزا خاص ده په کافرانو پورے دویمه توجیه چه مجازاة وئیلے کیږی پوره سزاته یعنی هیڅ ګناه ورته معاف نه کړی بلکه دَ هرګناه سزا ورکړی دا خاص ده په کافر پورے ځکه چه دَ مؤمن بعضے ګناهونه په عبادتونویا په صرف

الْقُرَى الَّتِيْ بٰرَكْنَا فِيْهَا قُرًى ظَاهِرَةً وَّقَدَّرْنَا فِيْهَا السَّيْرَ ط سِيْرُوْا فِيْهَا لَيَالِيَ وَاَيَّامًا اٰمِنِيْنَ ﴿۱۸﴾ فَقَالُوْا رَبَّنَا بٰعِدْ بَيْنَ اَسْفَارِنَا وَظَلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ فَجَعَلْنٰهُمْ اَحَادِيْثَ وَمَزَّقْنٰهُمْ كُلَّ مُمَزَّقٍ ط اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُوْرٍ ﴿۱۹﴾ وَلَقَدْ صَدَّقَ عَلَيْهِمْ اِبْلِيْسُ ظَنَّهٗ فَاتَّبَعُوْهُ اِلَّا فَرِيْقًا مِّنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۲۰﴾ وَمَا كَانَ

کلو کښ چه برکات اچولی دی مونږ په هغے کښ کلی یو بل ته ښکاره او اندازه کړے وؤ مونږ په هغے کښ مزل کړئے په هغے کښ دَشپے او دَ ورځے په امن سره (۱۸) نو دوی اُوئیل اے ربه زمونږ لرے والے راولے په مینځ دَ سفرونو زمونږ کښ او ظلم اوکړو دوی په ځانونو خپلو باندے نو اوګرځول مونږ دوی قصے دَ عبرت او ذرے ذرے موکړل په پوره ذرے کولو سره یقیناً په دے کښ ډیر دلیلونه دی هر ډیر صبر ناك شکر ګذار لره (۱۹) او یقیناً رشتینے او موندلو په دوی باندے ابلیس ګمان خپل نو روان شول په هغے پسے مګر یو ډله دَ مؤمنانو نه (۲۰) او نه وؤ

فضل دَ اللّٰه تعالیٰ سره معاف کیږی دَ هر ګناه سزانه ورکوی۔

[۱۸] په دے ایت کښ ذکر دَ بل انعام دے په اهل سبا باندے، چه مراد دَ هغے نه امن دے په سفر کښ چه دَ یمن نه ترشام پورے په لارے باندے هیڅ تکلیف اویره نه وه او دارنګ دَ سفر توخے اوږلوته هم حاجت نه وؤ کلی او ابادی یوبه ته نزدے نزدے وو ﴿اَلْقُرَى الَّتِيْ بٰرَكْنَا فِيْهَا﴾ مراد دَ دے نه شام فلسطین، اردن وغیره وو چه په هغے کښ میوے غلے ډیرے وے اب وهوائے هم ښه وه اواوسیدونکی پکښ هم ډیروو ﴿قُرًى ظَاهِرَةً﴾ مراد دَ دے نه دادے چه کلی یوبل ته داسے نزدے وو چه دَیوکلی نه به مسافر اُوتلونوبل کلی به ورته ښکاره کیدلواوهغه کلے به اوچت اباد وؤ۔ بعض مفسرینو لیکلی دی چه دَ یمن(سبا) نه ترشام پورے په لارے باندے څلور زره اووسوه کلی اباد وو ﴿وَقَدَّرْنَا فِيْهَا السَّيْرَ﴾ یعنی دَ یوکلی نه تربل کلی پورے دَ اندازے سفروو، مسافر به په هغے کښ نه ستړے کیدو اونه لوګه تنده وه بلکه دَیوکلی نه تربل کلی پورے اته میله یا دولس میله مسافت وؤ۔

[۱۹] په دے ایت کښ دَ دوی ناشکری اوبیا عذاب ذکر کوی اودَ نعمت دَ بدلیدلوسوال داسے وؤ لکه چه بنی اسرائیلودَ من اوسلوی په بدل کښ دَ زمکے نباتات غوښتل وواوکافران مکه دَ امن په بدل عذاب دَ اللّٰه تعالیٰ غوښتلے وؤلکه سورة انفال(۳۲) کښ، نودَ دوی دعاګان قبولے شوے اوهغه کلی اوابادئ کمے شوے اووړانے شوے اودَیوبل نه لرے شول ﴿وَمَزَّقْنٰهُمْ﴾ یعنی په مختلفو ملکونو کښ تقسیم شول څوك شام ته لاړل څوك عمان ته څوك عراق ته څوك تهامه ته لاړل اوعمربن عامرچه دَ اوس او خزرج نیکه وؤهغه مدینے منورے ته راغے ﴿صَبَّارٍ شَكُوْرٍ﴾ مراد دَ دے نه مؤمن دے ځکه چه لږ صبراوشکرکاله کافر اومشرك هم کوی۔

[۲۰] دا بیان دَسبب دَحال دَسباوالودے یعنی دوی اعراض اوناشکری اوکړه اوعذاب ورباندے راغے دا په سبب دَ تابعدارئے دَ ابلیس سره ﴿ظَنَّهٗ﴾ په دے کښ اشکال دا دے چه ابلیس چه دَ اولاد آدم دَګمراه کولودَپاره کومے صیغے استعمال کړی دی هغه ټولے په لام اونون ثقیله سره مؤکد دی لکه سورة اعراف(۱۶،۱۷) سورة حجر(۳۹) سورة بنی اسرائیل (۶۲) سورة نساء (۱۱۸،۱۱۹) کښ دلالت کوی

لَهٗ عَلَيْهِمْ مِّنْ سُلْطٰنٍ اِلَّا لِنَعْلَمَ مَنْ يُّؤْمِنُ بِالْاٰخِرَةِ مِمَّنْ هُوَ مِنْهَا فِيْ شَكٍّ ؕ وَرَبُّكَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ حَفِيْظٌ ﴿٢١﴾
قُلِ ادْعُوا الَّذِيْنَ زَعَمْتُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۚ لَا يَمْلِكُوْنَ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ فِي السَّمٰوٰتِ وَلَا فِي الْاَرْضِ وَمَا لَهُمْ
فِيْهِمَا مِنْ شِرْكٍ وَّمَا لَهٗ مِنْهُمْ مِّنْ ظَهِيْرٍ ﴿٢٢﴾ وَلَا تَنْفَعُ الشَّفَاعَةُ عِنْدَهٗۤ اِلَّا لِمَنْ اَذِنَ لَهٗ ؕ حَتّٰۤى اِذَا فُزِّعَ عَنْ

ابلیس لره په دوی باندے هیڅ زور مګر (مقرر کړے دے مونږ) دَ دے دپاره چه جدا کړو مونږ هغه چا لره چه ایمان په اخرت باندے لری دَ هغه چانه چه دَ هغے نه په شك کښ دی او ستا رب په هر څیز حفاظت کوؤنکے دے (٢١) ته اُوایه را اوبلے هغه کسان چه ګمان کوئے تاسو معبودان سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه اختیار نه لری په قدر دَ یوے ذرے په اسمانونو کښ اونه په زمکه کښ اونیشته دوی لره په دے دواړو کښ هیڅ برخه او نیشته اللّٰه لره دَ دوی نه څوك مددګار (٢٢) او نفع نه ورکوی سفارش په نیز دَ اللّٰه تعالیٰ مګر هغه چاته چه اجازت ورکړی دَ هغه دپاره (دوی به ویره کښ وی) ترهغے پورے چه لرے کړے شی ویره دَ

په یقین باندے نوظن ئے ولے اوئیل؟ جواب دا دے چه په راتلونکے زمانه کښ کوم کار مخلوق کوی هغه یقینی نشی کیدے ځکه چه مخلوق په غیب باندے نه پوهیږی لیکن دَپوخ عزم او ارادے په وجه باندے هغهٔ صیغه دَ تاکید استعمالوی ﴿اِلَّا فَرِيْقًا مِّنَ الْمُؤْمِنِيْنَ﴾ یومعنیٰ دا ده چه تابعداری اوکړه دوی دَ ابلیس په شرك او کفرکښ مګریوه ډله چه مؤمنان دی هغوی دغه تابعداری نه ده کړے۔ دویمه معنیٰ دا ده چه من دَتبعیض دے بعض مؤمنان مراد دی او اتبعوه نه مرادتابعداری کول په هرقسم ګناه کولوکښ، معنیٰ دا ده چه دوی پوره تابعداری دَابلیس اوکړه مګریوډله دَ مؤمنانونه چه هغوی معصوم اوپاك دی، اوهغه پیغمبران دی۔ نو دا ایت دلیل دے په عصمت دَ انبیاؤعلیهم السلام باندے ځکه چه هغه فریق چه دَ ابلیس هیڅ قسم تابعداری ئے نه وی کړی دَ انبیاؤ نه سیوا بل څوك کیدے نه شی اوکه انبیاء ګنهګار ثابت شی نوپه انبیاؤ باندے به دَ بل چا فضیلت راشی اودا باطله خبره ده۔

[٢١] په دے سره وهم دفع کوی یعنی داوهم څوك اونه کړی چه ابلیس په دے خلقو باندے په خپل اختیار سره مسلط او مقرردے؟ دَ سُلطَان نه مراد تسلط اومقررکیدل دی دا دَ ابلیس په اختیارکښ نه وه بلکه اللّٰه تعالیٰ مسلط کړودَپاره دَ امتحان دَ بنی آدمو۔ یا دَ سلطان نه مراد حجت دے یعنی دَ ابلیس دَپاره په دے بنی آدموګمراه کولوباندے هیڅ حجت نیشته لیکن بے حجته ئے ګمراه کوی ﴿لِنَعْلَمَ﴾ فراء اوبغوی وئیلی دی چه دا علم په معنیٰ دَ تمیزسره دے اوعلم خو اللّٰه تعالیٰ ته دَ دے نه رواندے شته ۔ اوهرکله چه اصل مقصد دَ ابلیس داوؤ(چه خلقولره دَقیامت په باره کښ شك کښ واچوی ځکه چه ټولو ایمانیاتو اوعباداتو دارومدارپه عقیده دَ قیامت کښ دے) نودَ دے وجے دلته ئے من یؤمن بالاٰخرة اه ذکرکړے دے اومعلومه شوه چه شك کول دَ قیامت په باره کښ هم کفردے۔

[٢٢] دَ دے ایت نه تر(٣٤) پورے دریم باب دے په دے کښ دَ څلورمے شبهے جواب دے چه هغه بیان دَ عجزدَ ملائکودے اودَ شرك دَ بند ولوځلورطریقے ذکرکړی دی۔ بیا درے طریقے دَ تبلیغ اوتعلیم۔ بیا دَمنکرینودَ رسالت جوابونه او زجرونه دی بیا تخویف اخروی دے په برائت دَ آلِهو باطلودَ عابدانوخپلونه۔ په دے (٢٢) کښ ذکردَ طریقے دَ رد دے په مشرکانوباندے په درے طریقو سره اوربط ئے دَ مخکښ سره دا

قُلُوْبِهِمْ قَالُوْا مَاذَا ۙ قَالَ رَبُّكُمْ ؕ قَالُوا الْحَقَّ ۚ وَهُوَ الْعَلِيُّ الْكَبِيْرُ ﴿۲۳﴾ قُلْ مَنْ يَّرْزُقُكُمْ مِّنَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ قُلِ

زړونو دَ هغوی نه وائي دوی څه اُوئیل رب ستاسو اوبه وائی پورته ملائك چه اُوئیل ئیے حق او هغه پورته دے ډیر لوے ذات دے (۲۳) ته اُوایه څوك روزی درکوی تاسوته دَ اسمانونونه او دَزمکے نه ته اُوایه

دے چه دَ ابلیس اول تصدیق دَ ظن دا دے چه انسان ئیے په شرك کښ مشغول کړے وی نودَ هغوی پوهه کول په دے طریقے سره پکاردی ﴿قُلِ ادْعُوا الَّذِيْنَ زَعَمْتُمْ﴾ یعنی دوی ته را مدد شه اُوائیے دَپاره دَ دے چه تاسوته نفع درکړی یا درنه تکلیف لرے کړی لکه چه ستاسوخیال دے نوجواب دَ دے پټ دے چه دوی دَ دے اختیاراوطاقت نه لری دَ دے وجے نه چه ﴿لَا يَمْلِكُوْنَ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ﴾ هرکله چه حاجتونه دَ انسانانودَ آسمان اوزمکے سره تعلق لری دَ دوی نه بهرنیشته دَ دے وجے دواړه ذکرکړل۔ دارنګ دَ دوی اِلهه بعضے اسمانی دی لکه ملائك اوبعضے دَ زمکے دی ﴿وَمَا لَهُمْ فِيْهِمَا مِنْ شِرْكٍ﴾ یعنی که څوك اوائي چه دَ دے اِلهواګرچه ملکیت نیشته لیکن کیدے شی چه اللّٰه تعالیٰ ورته حصّه ورکړے وی چه هغه ته حصه دار اوبرخے والاوئیلے کیدے شی نوپه دے جملے سره ئیے جواب اوکړو چه اللّٰه تعالیٰ دوی لره هیڅ برخه هم نه ده ورکړے نودوی به تاسوله څه درکړی؟ ﴿وَمَا لَهٗ مِنْهُمْ مِّنْ ظَهِيْرٍ﴾ یعنی که څوك خیال اوکړی چه دوی به دَ اللّٰه تعالیٰ سره په څه کاراوتدبیردَ دنیاکښ مدد اوملګرتیاکړے وی دَ دے وجے نه کیدے شی چه دوی بل چاله څه حاجت پوره کړی نوپه دے جملے سره دَ دے جواب ئیے اوکړواو داسے جواب سورة کهف (۵۱) کښ هم موجود دے۔

[۲۳] په دے کښ رد دے په هغه شبهه څلورمه چه ملائك خوشفیع (قهری) کیدے شی نو دوی دَ بندګئی حق داردی نو عجزدَ ملائکو ذکرکوی او دارنګ پخپله هیڅ ملکیت نه لری لیکن زمونږ حاجتونه په اللّٰه تعالیٰ باندے مجبوراً پوره کوی په طریقه دَ سفارش کولو سره اللّٰه تعالیٰ دَ دوی دَ محبت یا مخوریزئ (عظمت) نه مجبوره شی۔ دَ جواب حاصل دا دے چه بغیر دَ اذن دَ اللّٰه تعالیٰ نه دَ دوی سفارش کول نیشته اونه ئیے فائده شته او دَ اللّٰه تعالیٰ عادت کریمه دا دے چه دَ مشرکانو دَ پاره دَ سفارش کولو اذن چاله نه ورکوی ﴿حَتّٰٓى اِذَا فُزِّعَ﴾ دا حال دَ شفعاؤدے په وخت دَ نزول دَ اذن دَ شفاعت کولوکښ۔ یعنی دوی لره چه کوم وخت اذن دَ شفاعت ورکیدیشی نو دوی به په دغه وخت کښ په ډیر فزع اوهیبت کښ وی دَ وجے دَ عظمت دَ اللّٰه تعالیٰ نه نوهرکله چه(لږساعت روستو) دا هیبت دَ دوی دَ زړونونه لرے کړیشی نو دوی به هغه ملائکونه تپوس اوکړی څوك چه دوی لره اذن دَ اللّٰه تعالیٰ را رسوی چه اللّٰه تعالیٰ څه حکم اوکړونوهغه ملائك به دوی ته اُوائي چه (الحق) یعنی دَ مؤحدینو دَ شفاعت دَ پاره ئیے اذن اوکړو۔ دویمه توجیه دا ده چه دا حال دَملائکو دے په دنیاکښ، هرکله چه اللّٰه تعالیٰ څه حکم نازلوی نو دا ملائك په ډیر هیبت کښ وی نوهرکله چه داهیبت دَ دوی دَ زړونونه لرے کړے شی نولاندنی ملائك دَ بره ملائکو(حکم راوړونکونه) تپوس اوکړی چه اللّٰه تعالیٰ څه حکم اوکړو نوهغوی ورته اُوائي چه (الحق) رالیږلے دے حق حکم۔ حاصل دَ دواړو توجیهاتو دا دے چه شفاعت کوؤنکی خوډیرعاجز دی ویره کوؤنکی دی دَ اللّٰه تعالیٰ نه نو دوی به څرنګه شفاعت قهریه(بے اجازته) اوکړیشی لکه چه مشرکان

اللّٰهُ ۙ وَاِنَّآ اَوْ اِيَّاكُمْ لَعَلٰى هُدًى اَوْ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿٢٤﴾ قُلْ لَّا تُسْـَٔلُوْنَ عَمَّآ اَجْرَمْنَا وَلَا نُسْـَٔلُ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿٢٥﴾
قُلْ يَجْمَعُ بَيْنَنَا رَبُّنَا ثُمَّ يَفْتَحُ بَيْنَنَا بِالْحَقِّ ۭ وَهُوَ الْفَتَّاحُ الْعَلِيْمُ ﴿٢٦﴾ قُلْ اَرُوْنِيَ الَّذِيْنَ اَلْحَقْتُمْ بِهٖ شُرَكَاۗءَ
كَلَّا ۭ بَلْ هُوَ اللّٰهُ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿٢٧﴾ وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا كَاۗفَّةً لِّلنَّاسِ بَشِيْرًا وَّنَذِيْرًا وَّلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٢٨﴾

اللّٰه تعالیٰ او یقیناً څه یا تاسو ضرور په هدایت باندے یو یا په ګمراهئ ښکاره کښ (٢٤) ته اُوایه تپوس نشی کیدے ستاسو نه دَ هغه چه مونږ جرم کړے وی او تپوس نشی کیدے زمونږ نه دَ هغه عملونو چه تاسو کوئے (٢٥) ته اُوایه جمع به کړی مونږ لره رب زمونږ بیا به فیصله اوکړی په مینځ زمونږ کښ په حقه سره او اللّٰه تعالیٰ ښه فیصله کوؤنکے دے پوره عالم دے (٢٦) ته اُوایه اوښائیے ماته هغه کسان چه یوځائیے کړی دی تاسو دَ اللّٰه تعالیٰ سره شریکان هیڅرے نشی کیدے بلکه اللّٰه تعالیٰ زورآور حکمت والا دے (٢٧) اونه ئیے لیږلے مونږ ته مګر دَ ټولو خلقو دپاره زیرے ورکوؤنکے او ویره ورکوؤنکے لیکن ډیر دَ خلقو نه نه پوهیږی (٢٨)

ئیے عقیده لری۔

[٢٤] روستودَ ردکولودَ طریقودَ شرك نه الزامی او اعترافی دلیل ذکرکوی په رد دَ مشرکانو چه دَ رزق انتظام کوؤنکے صرف اللّٰه تعالیٰ دے نوبیادَهغهٔ نه سیوا دَنورونه ولے حاجتونه غواړئ؟ ﴿وَاِنَّآ اَوْ اِيَّاكُمْ﴾ دا طریقه دَتعلیم اوتبلیغ ده یعنی مشرکان چه اُوائي چه مونږاوتاسویوشان یوهیڅ فرق نیشته یا اُوائي چه دا اختلافی مسئلے دی مونږ په دے اختلافی خبرو کښ برخه نه اخلونو جواب ئیے دا دے چه داسے نه ده بلکه دا دواړه فریقه دَ یوبل سره متضاد دی یو فریق په هدایت او بل په ګمراهئ کښ دے یعنی دا اصولی اختلاف دے فرعی اختلاف نه دے په دے کښ به تاسو ضروریوطرف ته کیږئے۔

[٢٥] دا بله طریقه دَ تعلیم ده اوپه دے کښ بیان دَ برائت دے یعنی که دوی اُوائي چه ته دعوت کوے توحید ته دالوئے جرم دے حاصل دَ جواب دا دے که داجرم زمونږ وی نو تاسو باندے ذمه واری نیشته۔ او داهم طریقه دَ دعوت ده چه خپل ته ئیے جرم اوئیل (دَ هغوی په ګمان) او دَ هغوی طرف ته ئیے صرف دَ عمل نسبت اوکړو۔

[٢٦] دابله طریقه دَ تعلیم ده۔ یعنی فیصله دَ دے خبرے چه کوم یومجرم دے اوکوم یوحق باندے دے په قیامت کښ به کیږی۔

[٢٧] دابله طریقه دَ تعلیم ده او رد دے په شرك باندے یعنی طلب دَ دلیل دے چه ستاسو په شرکاؤ کښ کوم وصف دے چه په هغے سره تاسو دوی دَ اللّٰه تعالیٰ سره شریکان جوړ کړی دی۔

[٢٨] روستودَ اثبات دَتوحید نه دا اثبات دَ رسالت دے ﴿كَاۗفَّةً﴾ دا په معنیٰ دَ عامةً اوجمیعاً دے۔ اودویمه توجیه دا ده چه کافة په معنیٰ دَ جامعاً دے حال دے دَ کاف دَ ارسلناك نه یعنی جمع کوؤنکے خلقو لره دین دَ توحید ته او(ة) دپاره دَ مبالغے ده او دریمه توجیه دا ده چه کافة په معنیٰ دَ مانع دے یعنی منع کوؤنکے خلقو لره دَ شرك او کفرنه۔

وَ يَقُوْلُوْنَ مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿٢٩﴾ قُلْ لَّكُمْ مِّيْعَادُ يَوْمٍ لَّا تَسْتَاْخِرُوْنَ عَنْهُ سَاعَةً وَّلَا
تَسْتَقْدِمُوْنَ ﴿٣٠﴾ وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَنْ نُّؤْمِنَ بِهٰذَا الْقُرْاٰنِ وَلَا بِالَّذِيْ بَيْنَ يَدَيْهِ ؕ وَلَوْ تَرٰۤى اِذِ الظّٰلِمُوْنَ
مَوْقُوْفُوْنَ عِنْدَ رَبِّهِمْ ۖۚ يَرْجِعُ بَعْضُهُمْ اِلٰى بَعْضِ ِۨالْقَوْلَ ۚ يَقُوْلُ الَّذِيْنَ اسْتُضْعِفُوْا لِلَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْا
لَوْلَاۤ اَنْتُمْ لَكُنَّا مُؤْمِنِيْنَ ﴿٣١﴾ قَالَ الَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْا لِلَّذِيْنَ اسْتُضْعِفُوْۤا اَنَحْنُ صَدَدْنٰكُمْ عَنِ الْهُدٰى
بَعْدَ اِذْ جَآءَكُمْ بَلْ كُنْتُمْ مُّجْرِمِيْنَ ﴿٣٢﴾ وَقَالَ الَّذِيْنَ اسْتُضْعِفُوْا لِلَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْا بَلْ مَكْرُ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ

او دوی وائی کله به وی دا وعده که چرے تاسو ئیے رشتینی (۲۹) ته اُوایه تاسو لره نیته مقرر دَیو ورځ ده چه نه به شی روستو کیدلے دَ هغے نه یو ساعت او نه به شی مخکښ کیدلے (۳۰) او وائي کافران هیڅرے ایمان نه راوړو مونږ په دے قرآن اونه په هغه کتابونو چه دَ دهٔ نه مخکښ دی او که چرے اُوینے ته هغه وخت ظالمان به او درولے شی په نیز دَ رب دَ دوی ورګډځوی به بعضے دَ دوی بعضوته جوابونه وائی به هغه کسان چه کمزوری ګڼلے شویدی هغه کسانو ته چه لوئی ئیے کړے ده که چرے نه وئے تاسونووے به مونږ مؤمنان (۳۱) اوبه وائی هغه کسان چه لوئي کړے ده هغه کسانو ته چه کمزوری کړے شوی وؤ ایا مونږ منع کړی وئے تاسو دَ هدایت نه روستو دَ هغے نه چه تاسو ته راغے بلکه تاسو وئے مجرمان (۳۲) او اوبه وائي هغه کسان چه کمزوری کړے شویوؤ هغه کسانو ته چه لوئي ئیے کړے وه بلکه (منع کړی وؤ مونږ لره) دعوت ستاسو دَ شپے او دَ ورځے

[۲۹] هرکله چه صدق دَ نبی بیان شونواوس زجر ورکوی منکرینو دَ رسالت او دَ قیامت ته یعنی دَ دوی خیال وؤ که ته رسول ئیے نوغیب دان به ئیے نو دَ دے وجے مونږله دَ عذاب دَ وخت نه خبرراکړه۔

[۳۰] داجواب دَ ماقبل دے لیکن سوال دَ دوی عنادی وؤ په طریقه دَ استهزاء کولو نو جواب ئیے هم په طریقه دَ تهدید او زورنے سره دے ۔

[۳۱] دابل زجردے په انکاردَ قرآن اودَ نوروکتابونو الٰهیوسره۔ مخکښ به دوی په اهل کتابو باندے اعتماد کوؤ لیکن هرکله چه دَ هغوی نه ئیے واوریدل چه زمونږ په کتابونوکښ رد دے په شرك باندے اوذکرشویدے صفت دَ دے رسول اللّٰهﷺ نو دے مشرکینودَ هغوی دَ کتابونونه هم انکار شروع کړو او تابعداری دَ خپلومشرانوئے په دلیل کښ اونیوله ﴿اسْتُضْعِفُوْۤا﴾ یعنی دوی په علم اوپه عقل کښ کمزوری وو او دَ مشرانو تابعداری ئیے کوله اوصیغه دَ مجهول ئیے دَ دے وجے نه ذکر کړه چه دے مشرانو دوی ته علم نه خودلو جاهل ئیے پریخودل دَ پاره دَ دے چه هغوی ترینه خپلے فائدے حاصلوی ﴿اسْتَكْبَرُوْا﴾ دَحق منلونه ئیے ځان لوئے ګڼلواوپه خپل علم اومال ئیے فخرکولو او دوی متبوعان دی۔

[۳۲] داجواب دے دَ طرف دَ مشرانونه یعنی مونږ تاسو باندے څه زورنه دے کړے اونه هم څه صحیح دلیل پیش کړے دے بلکه تاسودَ جرم کارونه خوښ کړی وو نو دَ دے وجے نه مونږ پسے بے دلیله راروان وئے۔

إِذْ تَأْمُرُونَنَآ أَن نَّكْفُرَ بِاللَّهِ وَنَجْعَلَ لَهُۥٓ أَندَادًا ۚ وَأَسَرُّوا۟ ٱلنَّدَامَةَ لَمَّا رَأَوُا۟ ٱلْعَذَابَ ۚ وَجَعَلْنَا ٱلْأَغْلَٰلَ
فِىٓ أَعْنَاقِ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ۚ هَلْ يُجْزَوْنَ إِلَّا مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿٣٣﴾ وَمَآ أَرْسَلْنَا فِى قَرْيَةٍ مِّن نَّذِيرٍ إِلَّا قَالَ
مُتْرَفُوهَآ إِنَّا بِمَآ أُرْسِلْتُم بِهِۦ كَٰفِرُونَ ﴿٣٤﴾ وَقَالُوا۟ نَحْنُ أَكْثَرُ أَمْوَٰلًا وَأَوْلَٰدًا ۙ وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِينَ ﴿٣٥﴾ قُلْ إِنَّ
رَبِّى يَبْسُطُ ٱلرِّزْقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقْدِرُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٣٦﴾ وَمَآ أَمْوَٰلُكُمْ وَلَآ أَوْلَٰدُكُم بِٱلَّتِى ع

کله چه تاسو مونږ ته بیان کوؤ چه کفر دِ اوکړو په الله تعالی باندے اوجوړ دِکړو مونږه هغه لره شریکان او ښکاره به کړی پښیمانی هرکله چه اُوینی عذاب لره او وابه چوو مونږ طوقونه په ستونو دَ کافرانو کښ بدله نه شی ورکیدے مګر دَ هغه عملونو چه دوی کول (۳۳) اونه دے لیږلے مونږ په هیڅ کلی کښ ویره ورکوؤنکے مګر اوبه وئیل بدمستو خلقو یقیناً مونږ په هغه څیز چه تاسو رالیږلے شوی ئے په هغے انکار کوؤنکی یو (۳٤) او دوی وئیل مونږ ډیر مالونو او اولاد والا یو او نه یو مونږ عذاب راکړے شوی (۳۵) ته اُوایه یقیناً رب زما فراخه وی روزی چالره چه اوغواړی اوتنګوی لیکن ډیر خلق پوهه نه لری (۳٦) اونه دی مالونه ستاسو اونه اولاد ستاسو په داسے حال

[۳۳] دا جواب دَ طرف دَ کشرانونه دے یعنی تاسوبه شپه او ورځ مونږسره پټ چلونه کول اودعوت اوتبلیغ به موکولو نوهغه زمونږدَ منع کیدلوسبب شو ﴿وَأَسَرُّوا﴾ دا لفظ دَ اضدادونه دے پټولوته هم وئیلے شی۔ یعنی په زړونو کښ به پښیمانه شی ځکه چه پښیمانه کیدل دَ زړه وصف دے اوښکاره کولوته هم وائي ځکه چه اسارير الوجه نه ماخوذ دے یعنی دَ پښیمانتیا نښے به دَ دوی تندواومخونوکښ ښکاره شی۔ اودا پښیمانتیا دَ دواړو ډلوبه وی تابعداران به په ړوند تقلید دَ مشرانوباندے پښیمانه شی اومشران به په دعوت کولودَ ګمراهئ باندے پښیمانه شی ﴿وَجَعَلْنَا الْأَغْلَالَ﴾ مفسرقرطبی لیکلی دی چه اغلال په اصل کښ هغے پټئے ته وئیلے کیږی چه دَ څرمنے وی اوپه هغے باندے ویخته وی اوبیا په کښ سپرے پیداشی نودا دَ ذلیلانو خلقو نښه ده او سپوته اچولے کیږی۔ او هغه طوق ته وئیلے کیږی چه لاس دَ څټ سره راجمع کوی۔

[۳٤] دَ دے ایت نه ترآخره پورے څلورم باب دے په دے کښ زجر دے په انکار دَ رسالت باندے او دَ انکار سبب ذکرکوی او دَ هغوی جواب سرهٔ دَ بشارت او تخویف نه تر (۳۹) پورے دے بیا تخویف اخروی په رد دَ مشرکین بالملائکه سره بیانوی بیازجردے په انکاردَ قرآن سره اوتخویف دنیوی دے۔ بیا پنځه طریقے دَ تعلیم دی اوپه آخرکښ تخویف اخروی دے، په دے (۳٤) کښ زجردے په انکاردَ رسالت سره اوهرکله چه مخکښ ایاتونوکښ ذکرشوه چه ګمراهانومشرانودا خلق ګمراه کړی دی په دعوت دَ شرك سره نواوس ذکرکوی چه دغه مشرانودعوت دَ انکارِ رسالت هم کړے دے دَپاره دَګمراه کولو دَ کشرانو۔

[۳۵] په دے ایت کښ دلیل دَ منکرینوذکرکوی چه زمونږمالونه او اولاد ډیر دی اوپه مونږ باندے هیڅ عذاب نیشته دا دلیل دے چه په حقه باندے یو۔

[۳٦] دا دَ دوی دَ دلیل اول جواب دے چه دَ الله تعالی نظام دے چه په تاسو کښ چالره فراخ رزق ورکړے دے اوچاله تنګ رزق دا امتحان دے دا خو دلیل دَ حقانیت نه دے۔

تُقَرِّبُكُمْ عِنْدَنَا زُلْفٰٓى اِلَّا مَنْ اٰمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا ۚ فَاُولٰٓئِكَ لَهُمْ جَزَآءُ الضِّعْفِ بِمَا عَمِلُوْا وَهُمْ فِى الْغُرُفٰتِ اٰمِنُوْنَ ﴿٣٧﴾
وَالَّذِيْنَ يَسْعَوْنَ فِىْٓ اٰيٰتِنَا مُعٰجِزِيْنَ اُولٰٓئِكَ فِى الْعَذَابِ مُحْضَرُوْنَ ﴿٣٨﴾ قُلْ اِنَّ رَبِّىْ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ
مِنْ عِبَادِهٖ وَيَقْدِرُ لَهٗ ۭ وَمَآ اَنْفَقْتُمْ مِّنْ شَىْءٍ فَهُوَ يُخْلِفُهٗ ۚ وَهُوَ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ ﴿٣٩﴾ وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ جَمِيْعًا
ثُمَّ يَقُوْلُ لِلْمَلٰٓئِكَةِ اَهٰٓؤُلَآءِ اِيَّاكُمْ كَانُوْا يَعْبُدُوْنَ ﴿٤٠﴾ قَالُوْا سُبْحٰنَكَ اَنْتَ وَلِيُّنَا مِنْ دُوْنِهِمْ ۚ بَلْ كَانُوْا
يَعْبُدُوْنَ الْجِنَّ ۚ اَكْثَرُهُمْ بِهِمْ مُّؤْمِنُوْنَ ﴿٤١﴾ فَالْيَوْمَ لَا يَمْلِكُ بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ نَّفْعًا وَّلَا ضَرًّا ۭ وَنَقُوْلُ لِلَّذِيْنَ

چه را نزدے کړی تاسو مونږ ته په نزدیکت سره مګر هغه څوک چه ایمان ئے راوړے دے اوعمل ئے کړے دے دَسنت موافق نو دغه کسان دوی لره بدله دوچند ده په وجه دَ عملونو دَ دوی او دوی به په بنګلو کښ وی امن والا به وی (۳۷) او هغه کسان چه کوشش کوی په ایاتونو زمونږ کښ مقابله کوؤنکی دغه کسان په عذاب کښ به حاضر کړے شی (۳۸) ته اُوایه یقیناً رب زما فراخوی روزی چا لره چه اوغواړی دَ بندګانو خپلو نه او تنګوی هغه لره او هغه چه تاسو خرچ کوئے څه څیز نو عوض به درکوی دَ هغے او اللّٰه تعالیٰ غوره دَ روزئ ورکوؤنکو نه دے (۳۹)او په هغه ورځ چه راجمع به کړی ټول بیا به اُوائي ملائکو ته ایا دا هغه کسان دی چه تاسو له ئے عبادت کوؤ (٤٠) دوی به اُوائي پاکی ده تا لره ته زمونږ واکدارئے دا خلق نه دی بلکه دوی بندګی کوله دَ پیریانو ډیرو دَ دوی په هغوی باندے یقین لرلو (٤١) نو نن ورځ اختیار نه لری بعض ستاسو دَ بعضو دپاره دَ نفع او نقصان او اوبه وایو مونږ هغه کسانو ته

[۳۷] دا دویم جواب دے یعنی دَکفراودَ شرك په موجود ګئے کښ دَ چامال او اولاد سبب دَ نزدیکت اللّٰه تعالیٰ ته نشی کیدلے یعنی که مالونه ئے ډیروی یا مالونه خرچ کوی اودارنګ که اولادئے ډیروی یا اولاد ورته دُعاګانے کوی خودَکافرانودَپاره په دے سره قربت اوثواب نه حاصلیږی ﴿اِلَّا مَنْ اٰمَنَ﴾ یعنی مګرمالونه اواولاد دَ مؤمن هغه له نزدیکت اللّٰه تعالیٰ ته ورکولے شی چه مالونه دَ اللّٰه تعالیٰ په لارے کښ خرچ کړی او اولاد ئے صالح وی نودا دَ هغهٔ دپاره سبب دَ قربت اوثواب دے۔

[۳۸] دا تخویف دے هغه مالداروته چه دَ مال اواولاد په ذریعه دَ اللّٰه تعالیٰ دَ دین مقابله کوی۔

[۳۹]دادریم جواب دے یعنی مالداری غریبی دَ اللّٰه تعالیٰ دَطرف نه په ایمان والوکښ هم شته نو ستاسودَپاره دلیل دَ فضیلت نشی کیدلے اودا ایت په باره دَمؤمنانو کښ دے په دے وجه چه﴿مِنْ عِبَادِهٖ﴾ ئے ذکرکړے اوروستودواړه جملے هم دَ مؤمنانو سره تعلق لری ﴿فَهُوَ يُخْلِفُهٗ﴾ یعنی مؤمن چه خرچ کوی نواللّٰه تعالیٰ هغه لره عوض ورکوی په دنیا اوآخرت کښ لکه چه حدیث دَ صحیح مسلم کښ راغلی دی اللهم اعط منفقا خلفاً۔

[٤٠] دا تخویف اخروی دے رد دے په مشرکین بالملائکه باندے ﴿اَهٰٓؤُلَآءِ اِيَّاكُمْ كَانُوْا يَعْبُدُوْنَ﴾ دا تپوس دپاره دَ توبیخ اوملامته کولودَ مشرکانودے یعنی مشرکانودعویٰ کوله چه مونږته دے ملائکو وئیلی ووچه زمونږعبادت کوئے نودا په هغوی باندے رد دے۔

[٤١] دا جواب دے دَ طرف دَملائکونه په ترڅ سره چه مونږاے اللّٰه بغیرستانه بل متصرف حق دار دَ

ظَلَمُوْا ذُوْقُوْا عَذَابَ النَّارِ الَّتِيْ كُنْتُمْ بِهَا تُكَذِّبُوْنَ ﴿٤٢﴾ وَإِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيٰتُنَا بَيِّنٰتٍ قَالُوْا مَا هٰذَآ إِلَّا رَجُلٌ
يُّرِيْدُ اَنْ يَّصُدَّكُمْ عَمَّا كَانَ يَعْبُدُ اٰبَآؤُكُمْ ۚ وَقَالُوْا مَا هٰذَآ إِلَّآ إِفْكٌ مُّفْتَرًى ۭ وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِلْحَقِّ
لَمَّا جَآءَهُمْ ۙ إِنْ هٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿٤٣﴾ وَمَآ اٰتَيْنٰهُمْ مِّنْ كُتُبٍ يَّدْرُسُوْنَهَا وَمَآ اَرْسَلْنَآ إِلَيْهِمْ قَبْلَكَ مِنْ
نَّذِيْرٍ ﴿٤٤﴾ وَكَذَّبَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۙ وَمَا بَلَغُوْا مِعْشَارَ مَآ اٰتَيْنٰهُمْ فَكَذَّبُوْا رُسُلِيْ ۖ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيْرِ ﴿٤٥﴾ قُلْ إِنَّمَآ ع
اَعِظُكُمْ بِوَاحِدَةٍ ۚ اَنْ تَقُوْمُوْا لِلّٰهِ مَثْنٰى وَفُرَادٰى ثُمَّ تَتَفَكَّرُوْا ۚ مَا بِصَاحِبِكُمْ مِّنْ جِنَّةٍ ۭ إِنْ هُوَ إِلَّا نَذِيْرٌ لَّكُمْ

چه شرك ئیے كړے دے اوځكئے عذاب دَ اور هغه چه وئے تاسو دَ هغے انكار مو كوؤ (٤٢) او كوم وخت چه اولوستلے شي په دوی باندے ايانونه زمونږ ښكاره دوی وائي نه دے دامګر يوسړے دے غواړی چه واړوی تاسو لره دَ بندګئ دَهغه چانه چه بندګی كوله مشرانو ستاسو او دوی وائي نه دی دا مګر دروغ جوړ كړے شوی او وائي هغه كسان چه كفرئے كړے دے په باره دَ حق كښ چه دوی ته راغے نه دے دا مګر جادو ښكاره دے (٤٣) او نه دی وركړی مونږ دوی ته كتابونه چه دوی ئیے لولی (دپاره دَاثبات دَشرك) اونه ليږلے دے مونږ دوی ته ستانه مخكښ هيڅ ويره وركوؤنكے (٤٤) اوتكذيب كړے وؤ هغه كسانو چه دَ دوی نه مخكښ وؤ اونه دی رسيدلی (دا موجوده خلق) لسمے حصے دَ هغه مالونوته چه مونږ هغوی ته ورکړی وؤ نو تكذيب او كړو هغوی دَ رسولانو زمانو څه رنګ شو عذاب زما (٤٥) ته اُوايه يقيناً څه بچ كوؤم تاسو دَ عذاب نه په يو كلمے سره (چه توحيد دے) او دريږئے دَ اللّٰه تعالٰی دپاره دوه دوه او يو يو بيا سوچ او كړئے (په دے كلمه كښ) نيشته ستاسو په خير خواه باندے هيڅ ليونتوب نه دے دے مګر ويره دركوؤنكے دے تاسو لره

بندګئ نه ګنړونو څنګه دوی ته دعوت دَ شرك ورکړو؟ ﴿بَلْ كَانُوْا يَعْبُدُوْنَ الْجِنَّ﴾ يعنی پيريانوبه دوی ته شكلونه جوړ كړه او ورته به ئيے وئيل چه مونږملائك يواوستاسومددكوؤ ﴿اَكْثَرُهُمْ بِهِمْ مُّؤْمِنُوْنَ﴾ يعنی دوی دوه قسمه دی اول هغه قسم چه دَپيريانو عبادت كوی په دے عقيده باندے چه دا ملائك دی اودا قسم لږ خلق دی۔ او دويم قسم هغه دی چه په پيريانو باندے عقيده لری چه دوی متصرف دی او غيب دان دی او دَ هغوی عبادت كوی او داقسم ډير دی۔

[٤٢] دا نتيجه دَ ماقبل ده ﴿بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ﴾ شامل دے ملائكواوپيريانوته۔

[٤٣] دا زجردے په انكاردَ قرآن اودَ رسول ﷺ په ذكركولودَ درے اعتراضونوسره اول داچه مونږ دَ مشرانو دَ لارے نه اړوی يعنی دوی دَ قرآن په مقابله كښ تقليد دَ اباؤ پيش كوی۔ دويم داچه اِفكٌ، دے يعنی هغه دروغ چه حقيقت پكښ بالكل بدل شويدے ﴿مُفْتَرًى﴾ يعنی اللّٰه تعالٰی ته ئيے په دروغه سره نسبت كوی۔

[٤٤] دا رد دے دَ دوی په ماقبل اقوالوباندے يعنی دَ دوی سره هيڅ منزّل دليل نيشته دَ دوی په شرك باندے اونه ورسره دَ مخكښ رسول قول په دليل كښ شته ۔ په دے كښ اشاره ده چه دليل شرعی دَ اللّٰه كتاب وی يا دَ رسول سنّت وی۔

[٤٥] په دے كښ تخويف دنيوی دے په ذكر دَ عذاب سره په تيرشوؤ قومونو باندے ﴿مِعْشَارَ﴾

بَيْنَ يَدَيْ عَذَابٍ شَدِيْدٍ ﴿٤٦﴾ قُلْ مَا سَاَلْتُكُمْ مِّنْ اَجْرٍ فَهُوَ لَكُمْ ؕ اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلَى اللّٰهِ ۚ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ
شَهِيْدٌ ﴿٤٧﴾ قُلْ اِنَّ رَبِّيْ يَقْذِفُ بِالْحَقِّ ۚ عَلَّامُ الْغُيُوْبِ ﴿٤٨﴾ قُلْ جَآءَ الْحَقُّ وَمَا يُبْدِئُ الْبَاطِلُ وَمَا يُعِيْدُ ﴿٤٩﴾ قُلْ اِنْ

مخکښ دَ عذاب سخت نه (٤٦) ته اُوایه هغه چه غوښتلے وی ماستاسونه څه مزدوری نو هغه دِستاسو شی نه دے زما اجر (مزدوری) مګر په اللّٰه تعالیٰ باندے ده او اللّٰه تعالیٰ په هر څیز باندے حاضر او ناظر دے (٤٧) ته اُوایه یقیناً رب زما ورګذاری حق لره (په باطل باندے) عالم دے په ټولو غیبو باندے (٤٨) ته اُوایه حق راغے اونه شی پیدا کولے باطل (دَ حق په مقابله کښ) اول پیدائش اونه دو باره پیدائش کولے شی (٤٩) ته اُوایه که چرے

معشارعشردَ عشیرته وائی اوعشیرعشردَعشرته اوعشرلسمے حصے ته وائي نومراد ترینه زرمه حصّه شوه نودا ډیره مبالغه شوه۔ یعنی دَ دے موجوده کافرانو سره دَ مخکښنوپه نسبت زرمه حصّه دَ قوت دَ بدن اومال اوهنر او اوګدوالے دَ عمر نیشته ۔ په دے ایت کښ ئے تکذیب دوه کرته ذکرکړے دے اول تکذیب دَ توحید او دَ ایاتونو دے اودویم دَ رسولانودے۔

[٤٦] دا طریقه دَ دعوت اودَ تعلیم ده یعنی منکرین وائی چه تهٔ مونږ په ډیرو خبرو سره تنګوے نوته مجنون ئے حاصل دَ جواب دا دے چه ځه وعظ کوم او تاسو دَ عذاب نه بچ کووم صرف دَ یوے کلمے په بیان سره چه هغه کلمه دَ توحید ده خو جامع ده ټولو ایمانیاتولره ﴿اَنْ تَقُوْمُوْا﴾ مراد دَ قیام نه توجّه کول دی حق ته ﴿لِلّٰهِ﴾ مراد دَ دے نه اخلاص کول دی ﴿مَثْنٰى وَفُرَادٰى﴾ یعنی چاچه په ځان اعتماد اوکړو چه زما عقل اورائے پوره ده نو هغه ډیوائے توجه اوکړی اوځوک چه په ځان پوره اعتماد دَ پوهے نه لری نو دَ بل ملګری سره دِشی ۔ اوهرکله چه دَ اکثرو انسانانو یوائے رائے اوعقل کښ نقصان دے نودَ دے وجے نه مثنٰی ئے مخکښ ذکرکړو ﴿ثُمَّ تَتَفَكَّرُوْا﴾ یعنی دَ اخلاص نه روستو فکر اوکړئے په هغه توحید کښ چه دِ رسول اللّٰه ﷺ په هغے باندے راتلل کړی دی نوتاسوته به ښکاره شی چه ﴿مَا بِصَاحِبِكُمْ مِّنْ جِنَّةٍ﴾۔

[٤٧] دا بله طریقه دَ دعوت ده یعنی منکرین که دا خیال اوکړی چه دے لیونے نه دے لیکن دَ دنیا دَ مال غرضی دے نو جواب ئے ورکړو په مَا سَاَلْتُكُمْ اه سره۔

[٤٨] دا بله طریقه دَ دعوت او دَ تعلیم ده یعنی منکرین وائی چه هرکله ستا دنیوی غرض نیشته نو بیا دَ څه وجے نه زمونږ دَ مشرانو دَ دین خلاف کوے حاصل جواب دا دے چه دا دَ اللّٰه تعالیٰ کار دے چه په حق سره باطل باندے ګذارونه کوی دَ باطل ختمولودَپاره۔

[٤٩] دا بله طریقه دَ دعوت ده یعنی منکرین وائي چه ته رد کوے زمونږ په طریقه او دین باندے چه زمونږ دین باطل او خپل حق ګڼرے نو دَ دے ردکولو څه فائده اوشوه ؟ جواب اوشوچه په دے سره حق ښکاره شو او باطل ختم شو(یعنی نزدے ده چه دین توحید به په شرك باندے غالب شی) ﴿وَمَا يُبْدِئُ الْبَاطِلُ وَمَا يُعِيْدُ﴾ داکنایه ده دَ هلاکت نه یعنی باطل دَحق په مقابله کښ داسے هلاك شو چه نه اوس سر ښکاره کولے شی اونه به بیا سرښکاره کړی تفسیرسراج المنیردَ دے په تائیدکښ قول دَ عبیدذکرکړے دے۔ دویمه توجیه دَحسن بصری نه نقل ده چه باطل معبود خپل عابدانوته نه په اول(دنیا) کښ نفع ورکولے شی اونه په

ضَلَلْتُ فَاِنَّمَآ اَضِلُّ عَلٰى نَفْسِىْ ۚ وَاِنِ اهْتَدَيْتُ فَبِمَا يُوْحِىْٓ اِلَىَّ رَبِّىْ ؕ اِنَّهٗ سَمِيْعٌ قَرِيْبٌ ﴿٥٠﴾ وَلَوْ تَرٰٓى اِذْ فَزِعُوْا
فَلَا فَوْتَ وَاُخِذُوْا مِنْ مَّكَانٍ قَرِيْبٍ ﴿٥١﴾ وَّقَالُوْٓا اٰمَنَّا بِهٖ ۚ وَاَنّٰى لَهُمُ التَّنَاوُشُ مِنْ مَّكَانٍۢ بَعِيْدٍ ﴿٥٢﴾ وَّقَدْ
كَفَرُوْا بِهٖ مِنْ قَبْلُ ۚ وَيَقْذِفُوْنَ بِالْغَيْبِ مِنْ مَّكَانٍۢ بَعِيْدٍ ﴿٥٣﴾ وَحِيْلَ بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ مَا يَشْتَهُوْنَ كَمَا فُعِلَ
بِاَشْيَاعِهِمْ مِّنْ قَبْلُ ؕ اِنَّهُمْ كَانُوْا فِىْ شَكٍّ مُّرِيْبٍ ﴿٥٤﴾ ع

څه بے لارے یم نو یقیناً بے لارے کیږم وبال به زما په ځان باندے وی او که چرے څه هدایت والایم نو په دے سره چه وحی کړیده ماته رب زما یقیناً هغه هرڅه اوری نزدے دے (٥٠) او که چرے اُوینے ته هغه وخت چه دوی به ګبراؤ شی نونه به وی بچ کیدل او اوبه نیولے شی دوی دَ مکان (ځائے) نزدے نه (٥١) او دوی به اُوائي ایمان راوړے دے مونږ په دے باندے او کله به وی دوی لره رانیول دَ ایمان دَ ځائے لرے نه (٥٢) اوحال دا چه دوی کفر کړے دے په دے باندے دَ دے نه مخکښ او ویشتلے دوی دَ توك خبرے دَ ځائے لرے نه (٥٣) او پرده به راشی په مینځ دَ دوی او دَهغه څیز کښ چه دوی غوښتلو لکه چه کار او کړے شو دَ دوی دَ ملګرو سره دَ مخکښ نه یقیناً دوی وؤ په شك کښ چه پوخ شك دے (٥٤)

آخرت کښ۔ دریمه توجیه دا ده چه باطل معبود نه اول پیدائش کولے شی اونه دوباره پیداکول نو دَ هغوی عبادت دَ توحید په مقابله کښ نشی ښکاره کیدلے۔

[٥٠] دابله طریقه دَ دعوت اودَ تعلیم ده یعنی منکرین وائي چه تادین دَ مشرانوته باطل اوئیل نو معلومه شوه چه ته ګمراه ئیے؟ حاصل دَ جواب دا دے چه بالفرض که څه ګمراه یم نوپه تاسو باندے دَ هغے څه وبال نیشته لیکن بل طرف ته هم غور او کړئیے که څه په هدایت باندے یم نو ماسره حجت شته اوتاسو منکرئیے نو بیا خوبه په تاسو باندے وبال اوعذاب راځی۔

[٥١] دا تخویف دے یعنی چه عذاب په تاسو باندے راشی ځکه چه تاسو دَ هدایت نه انکار کوئے نو بیا بچ کیدل نیشته۔

[٥٢] دا دفع دَ وهم ده یعنی دوی به وائی چه مونږبه په هغه وخت کښ ایمان راوړونوبچ به شودَ عذاب نه جواب اوشوپه دے قول سره ﴿وَاَنّٰى لَهُمُ التَّنَاوُشُ مِنْ مَّكَانٍۢ بَعِيْدٍ﴾ یعنی دنیا دَ آخرت نه لرے پاتے شوے ده چه دَ هغه لرے ځائے نه به څرنګه ایمان حاصل کړئ یعنی دَ ایمان دَ حاصلولو ځائے دنیا وه او هغه دَ دوی نه لرے پاتے شوه۔

[٥٣] دا دَ مخکښ ایت دَبارہ وجه ذکرکوی یعنی دَ دوی ایمان اوس نه قبلیږی چه دوی مخکښ کفر کوؤ او هیڅ دلیل ورسره نه وؤ﴿وَيَقْذِفُوْنَ بِالْغَيْبِ﴾ داکنایه ده دَ توك اواټکل (بے دلیله) فتوؤاوحکمونونه په باره دَ قرآن اورسول اوقیامت کښ﴿مِنْ مَّكَانٍۢ بَعِيْدٍ﴾ داهم کنایه ده چه دَ بے دلیله حکمونومثال داسے دے لکه چه دَ لرے ځائے نه په یوځیزباندے دَ غشویا ګولو ګذارونه کوی او ورته نه ښکاریږی نوبعید کنایه ده دَ غائب نه۔

[٥٤] داهم تخویف کښ داخل دے یعنی په وخت دَ عذاب دَ دنیا اوآخرت کښ دَ دوی تمناګانے به بے فائدے شی یوتمنا دا چه په وخت دَ عذاب کښ به آمنّا اوایو نو نجات به حاصل شی بله داچه جنت به حاصل کړو یا داچه دنیا ته به واپس اوګرځولے شو۔

سُوْرَةُ فَاطِرٍ (٣٥) مَكِّيَّةٌ (٤٣) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ٤٥ رُكُوْعَاتُهَا ٥

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ فَاطِرِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ جَاعِلِ الْمَلٰٓئِكَةِ رُسُلًا اُولِيْٓ اَجْنِحَةٍ مَّثْنٰى وَثُلٰثَ وَرُبٰعَ ؕ يَزِيْدُ فِي الْخَلْقِ مَا يَشَآءُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝١ مَا يَفْتَحِ اللّٰهُ لِلنَّاسِ مِنْ رَّحْمَةٍ فَلَا مُمْسِكَ لَهَا ۚ وَمَا يُمْسِكْ ۙ

ټول صفتونه دَ خدایئ خاص اللّٰه تعالیٰ لره دی چه دَ اول نه پیدا کوؤنکے دَ اسمانونو او دَ زمکے دے مقرر کوؤنکے دَ ملائکو دے رسولان وزرو والا دی دوه دوه او دریے دریے او څلور څلور زیاتول کوی په پیدائش کښ څومره چه اوغواړی یقیناً اللّٰه تعالیٰ په هر څیز باندے قدرت والا دے (١) هغه چه پرانزی اللّٰه تعالیٰ خلقو لره څه رحمت نو نیشته بندوؤنکے دَ هغے او هغه چه بندکړی

سورة فاطر

اودَ دے بل نوم سورة الملائکه دے۔

ربط: دَ دے سورة دَ سورة سبا سره په څو طریقودے اوله طریقه دا ده چه په هغه سورة کښ نقلی دلیلونه په اثبات دَ توحید باندے وو نو په دے سورة کښ دیارلس عقلی دلیلونه ذکرکوی سره دَ مثالونونه۔ دویمه طریقه دا ده چه په هغه سورة کښ رد وؤ دَ شبهاتونو پدے سورة کښ تفریع ده په هغے باندے په رد دَ شرك فی التصرف والدعاء سره۔

دعویٰ دَ سورة: رد دَ شرك فی الدعاء دے په عقلی دلیلونو او مثالونو سره۔

خلاصه دَ سورة: په دے سورة کښ درے بابونه دی۔ اول باب تر(١٥)پورے دے په دے کښ دعویٰ دَ توحید په دوه تعبیرونو سره ده الحمد لِلّٰهِ او لااله الاهو۔اواته عقلی دلیلونه دی په خائسته ترتیب سره اوپه مینځ دَ دلیلونو کښ تسلی ده رسول اللّٰه ﷺ ته او تحذیر دَ دوه دهوکو ورکوؤنکو او تخویف او بشارت دے او اخرکښ تفریع ده په رد دَ شرك فی الدعاء سره۔

تفسیر

[١] په دے ایت کښ دعویٰ دَ توحید ده په الحمد لِلّٰه سره او داپنځم سورة دے په قرآن کریم کښ چه په اول کښ ئے حمد ذکردے ﴿فَاطِرِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ﴾ فطریه اصل کښ دا دے چه یوڅیز اوچوی اوبل څیزترینه ښکاره شی لکه چه جامه اوچوی اوغاښ ترینه را اوځی یا زمکه اوچوی او اوبه ترینه را اوځی نودلته دوه توجیه دی اول داچه دَ عدم (نیشت والی) نه ئے وجودته راښکاره کړل اودا معنیٰ مشهوره ده اودویمه توجیه دا ده چه اسمان ئے اوچولو(دروازے په کښ جوړے کړے دی) نوملائك ترینه راکوزیګی او وحی نازلیګی اودَ بره طرف نه بارانونه نازلیګی اوزمکه ئے اوچوله نو چینے دَ اوبو،خزانے دَ سرو اوسپنواوتیلواوبوټی اونے ترینه راؤباسی۔ اوروستوجمله هم دَ دے معنے سره مناسبت لری ﴿جَاعِلِ الْمَلٰٓئِكَةِ رُسُلًا﴾ دا ذکر دَ هغه مخلوق دے چه په هغوی سره ربط دے په مینځ دَ اسمان او زمکه کښ ﴿رُسُلًا﴾ یعنی دَ ملائکوپه ذریعه وحی رالیګی انبیاء علیهم السلام ته او الهام او رشتینی اوصالح خوبونه راځی اولیاؤته اودَ ملائکو په واسطه دَ ټولو بندګانوعملونه لیکی اودَ دے ملائکوپه واسطه دَ بعض بندګانو

فَلَا مُرْسِلَ لَهٗ مِنْۢ بَعْدِهٖ ؕ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝۲ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اذْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ ؕ هَلْ مِنْ
خَالِقٍ غَيْرُ اللّٰهِ يَرْزُقُكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ ؕ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ فَاَنّٰى تُؤْفَكُوْنَ ۝۳ وَاِنْ يُّكَذِّبُوْكَ فَقَدْ كُذِّبَتْ
رُسُلٌ مِّنْ قَبْلِكَ ؕ وَاِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ الْاُمُوْرُ ۝۴ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا ۪
وَلَا يَغُرَّنَّكُمْ بِاللّٰهِ الْغَرُوْرُ ۝۵ اِنَّ الشَّيْطٰنَ لَكُمْ عَدُوٌّ فَاتَّخِذُوْهُ عَدُوًّا ؕ اِنَّمَا يَدْعُوْا حِزْبَهٗ لِيَكُوْنُوْا مِنْ

نو نیشته ازادوؤنکے دَ هغے روستو دَ بندولو دَ هغه نه او اللّٰه تعالیٰ زور اور او حکمت والا دے (۲) اے خلقو یادکړئے احسان دَ اللّٰه تعالیٰ په تاسو باندے ایا شته دے پیداکوؤنکے سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه چه روزی درکړی تاسو لره دَ اسمان او زمکے نه نیشته حق دار دَ بندګئ سیوا دَ هغه نه نو څه رنګے اړولے کیدیشئ تاسو دَ توحید نه (۳) اوکه چرے دوی تاته دروغژن وائي نو یقیناً دروغژن وئیلے شوی دی پیر رسولانو ته ستانه محکمبن او خاص اللّٰه تعالیٰ ته ګرځولے کیدے شی ټول کارونه (٤) اے خلقو یقیناً وعده دَ اللّٰه تعالیٰ حقه ده نونه دِ دهوکه کوی تاسو لره ژوند دنیوی اونه دِ دهوکه کوی تاسو په اللّٰه تعالیٰ باندے دهوکه درکوؤنکے (٥) یقیناً شیطان تاسو لره دُشمن دے نو اونیسئے هغه لره په دُشمنئ سره یقیناً رابلی هغه خپله ډله دَ دے دپاره چه اوګرځی دَ

حفاظت کوی۔ داټول په دے ایت کښ داخل دی ﴿يَزِيْدُ فِي الْخَلْقِ مَا يَشَآءُ﴾ اشاره ده چه دَ بعض ملائکو وزرے زیاتے دی لکه چه حدیث دَمسلم کښ وارد دی چه نبی ﷺ جبرائیل علیه السلام لره په اصلی شکل کښ اولیدلوچه دَ اسمان غاړے ئے پټے کړے وے اودَهغه شپږسوه وزرے وے۔ اودَ دے وزروپه تفصیلی کیفیت باندے اللّٰه تعالیٰ عالم دے۔

[۲] دا دویم دلیل عقلی دے۔ روستودَ خلق دَ اعیانونه ذکر دَ حالاتو دَ وسعت او دَ تکلیف دے ﴿رَحْمَةٍ﴾ دا لفظ وسعت دَ رزق اوصحت دَ عافیت اوخوشحالئے او بارانونه او هرقسم نعمت دنیویه اونعمت دینیه ته شامل دے۔ اوپه دے ایت کښ رد دے په شرك فی التصرف باندے۔

[۳] دا دریم دلیل عقلی دے اوپه دے کښ خطاب عام دے یعنی نورنعمتونه دَ اللّٰه تعالیٰ بے شماره دی په زړه اوپه ژبے سره ئے یادکړئے یعنی دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه ئے اوګنړئے اوهغه ته ئے نسبت کوئے ﴿هَلْ مِنْ خَالِقٍ غَيْرُ اللّٰهِ﴾ دا په مینځ کښ جواب دَسوال دے یعنی که څوك وهم اوکړی چه نعمتونه مور او پلار او نور سخیان خلق هم ورکوی نوحاصل دَ جواب دا دے چه هغوی دَ دے نعمتونوپیدا کړونکی نه دی نونعمت دَ هغوی دَطرف نه نه دے ﴿لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ﴾دانتیجه دَتیر شوی دلیلونوده۔

[٤] په دے ایت کښ صدق دَ رسول اللّٰه ﷺ ذکرکوی روستودَ بیان دَ توحید نه اوتسلّی هم ده هغهٔ ته۔

[٥] په دے کښ ذکرد اثبات دَقیامت دے سرهٔ دَتحدید دَاسبابودَ انکاردَ هغے نه ﴿الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا﴾ مراد دَ دے نه مشغولیدل دی په مال دَ دنیااوپه مزودَ هغے اوشهواتودَ هغے باندے تردے پورے چه انسان غافل شی دَآخرت اودَمرګ نه یا منکرشی دَ آخرت نه ﴿بِاللّٰهِ الْغَرُوْرُ﴾ داسے سوره لقمان (۳۳) کښ هم تیرشوی دی الْغَرُوْرُ، شیطان انسی اوجنّی دواړوته شامل دے۔

اَصْحٰبِ السَّعِيْرِ ۝٦ اَلَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيْدٌ ۭ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّاَجْرٌ
كَبِيْرٌ ۝٧ اَفَمَنْ زُيِّنَ لَهٗ سُوْۗءُ عَمَلِهٖ فَرَاٰهُ حَسَنًا ۭ فَاِنَّ اللّٰهَ يُضِلُّ مَنْ يَّشَاۗءُ وَيَهْدِيْ مَنْ يَّشَاۗءُ ۠ فَلَا
تَذْهَبْ نَفْسُكَ عَلَيْهِمْ حَسَرٰتٍ ۭ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌۢ بِمَا يَصْنَعُوْنَ ۝٨ وَاللّٰهُ الَّذِيْٓ اَرْسَلَ الرِّيٰحَ فَتُثِيْرُ
سَحَابًا فَسُقْنٰهُ اِلٰى بَلَدٍ مَّيِّتٍ فَاَحْيَيْنَا بِهِ الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ۭ كَذٰلِكَ النُّشُوْرُ ۝٩ مَنْ كَانَ يُرِيْدُ
الْعِزَّةَ فَلِلّٰهِ الْعِزَّةُ جَمِيْعًا ۭ اِلَيْهِ يَصْعَدُ الْكَلِمُ الطَّيِّبُ وَالْعَمَلُ الصَّالِحُ يَرْفَعُهٗ ۭ وَالَّذِيْنَ يَمْكُرُوْنَ

اور والونه (٦) هغه کسان چه کفرئے کړے وی دوی لره عذاب سخت دے او هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے اوعملونه ئیے دَ سنت موافق کړیدی دوی لره بخښش دے او ثواب لوے دے (٧) ایا هغه څوك چه ښائسته کړے شوے وی هغه لره بدعمل د هغه نو وینی هغے لره ښائسته نو یقیناً اللّٰه تعالیٰ ګمراه کوی چا لره چه اوغواړی او هدایت ورکوی چاته چه اوغواړی نو لاړه نشی سا ه ستا په دوی پسے دَوجے دَ افسوسونونه یقیناً اللّٰه تعالیٰ پوهه دے په هغه کارونو چه دوی کوی (٨) او اللّٰه تعالیٰ هغه ذات دے چه رالیږی هوا ګانے نو پورته کوی وریځے نو اوچلوؤ مونږ هغه زمکے اوچے ته نو تازه کړو په هغے سره زمکه روستو دَ اوچ والی دَ هغے نه دغسے دوباره پیدائش ستاسو دے (٩) هغه څوك چه غواړی عزت پس عزت ټول دَ اللّٰه تعالیٰ په اختیار کښ دے (دَ اللّٰه تعالیٰ نه ئیے غواړئے) خاص هغه ته ورخیژی کلمے پاکے (دَ اخلاص) او عمل دَ سنت موافق پورته کوی اللّٰه تعالیٰ هغے لره او هغه کسان چه چلونه جوړوی

[٦] دا علت دے دَماقبل دپاره ﴿فَاتَّخِذُوْهُ عَدُوًّا﴾ یعنی په عقائدو او اعمالو کښ دَ هغه داسے مخالفت کوئے لکه چه دَ دشمن مخالفت کیدیشی۔

[٧] په دے ایت کښ بیان دَ عاقبت دَ حزب الشیطان او حزب الرحمان دے اوّل ته تخویف او دویم ته بشارت دے۔ او مغفرت په عوض دَ ایمان کښ دے او اجر کبیر په بدل دَ عمل صالح کښ دے۔

[٨] په دے ایت کښ تسلّی ده نبی ﷺ ته اوبیان دَ حال دَ فریقینو دے ﴿اَفَمَنْ زُيِّنَ لَهٗ سُوْۗءُ عَمَلِهٖ﴾ داعام دے ټولو کفارو او مشرکینواومبتدعینوته۔ بدعملونه دوی ته خائسته ښکاری چه دا سبب دَ ثواب او دَ قربت الٰهیه دے یا دا کارونه سبب دَ فخر او دَ لوئیے او دَ غیرت دی دَ دے وجے نه همیشه ئیے کوی اوتوبه ترینه نه اوباسی۔ او سعیدبن جبیرنه خطیب شربینی نقل راوړے دے چه دا ایت په باره دَ اصحاب هوی اوبدعتیانو کښ دے ﴿يَصْنَعُوْنَ﴾ صناعت هغه عمل ته وئیلے کیږی چه همیشه ئیے کوی دَ دے وجے چه هنرئیے جوړ کړے وی یا دین ئیے ګنړلے وی نو دا دَ فَرَاٰهُ حَسَنًا سره مناسب دے۔

[٩] دا څلورم عقلی دلیل دے دَپاره دَ پوهه کولودَ هغه کسانوچه ﴿زُيِّنَ لَهٗ سُوْۗءُ عَمَلِهٖ﴾ کښ مراد وواوپه دے کښ ئے درے تصرفات اِلٰهیه ذکرکړی دی هرکله چه تیرشوی ایاتونوکښ آفاقی علوی او انفسی دلیلونه ذکر وو نوپه دے ایت کښ ئے وسطی تصرفات ذکرکړی دی ﴿كَذٰلِكَ النُّشُوْرُ﴾ په دے جمله کښ اثبات دَ قیامت دے په طریقه دَ قیاس سره په بوټو راویستلو سره دَ وجے زمکے نه اودارنګ تذکیردَ قیامت دے په وخت دَ لیدلو دَ فصلونو او باغونوکښ۔

السَّيِّاٰتِ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيْدٌ ؕ وَمَكْرُ اُولٰٓئِكَ هُوَ يَبُوْرُ ۝١٠ وَاللّٰهُ خَلَقَكُمْ مِّنْ تُرَابٍ ثُمَّ مِنْ نُّطْفَةٍ ثُمَّ
جَعَلَكُمْ اَزْوَاجًا ؕ وَمَا تَحْمِلُ مِنْ اُنْثٰى وَلَا تَضَعُ اِلَّا بِعِلْمِهٖ ؕ وَمَا يُعَمَّرُ مِنْ مُّعَمَّرٍ وَّلَا يُنْقَصُ مِنْ
عُمُرِهٖٓ اِلَّا فِيْ كِتٰبٍ ؕ اِنَّ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرٌ ۝١١ وَمَا يَسْتَوِي الْبَحْرٰنِ ۖ هٰذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ سَآئِغٌ شَرَابُهٗ
وَهٰذَا مِلْحٌ اُجَاجٌ ؕ وَمِنْ كُلٍّ تَاْكُلُوْنَ لَحْمًا طَرِيًّا وَّتَسْتَخْرِجُوْنَ حِلْيَةً تَلْبَسُوْنَهَا ۚ وَتَرَى الْفُلْكَ فِيْهِ

دَ بدو کارونو هغوی لره عذاب سخت دے او هرچل دَ دے کسانو به بے کاره کړے شی (۱۰) او الله تعالیٰ ستاسو پیدائش شروع کړے دے دَ خاورونه بیا دَ نطفے نه بیا جوړ کړی ئے تاسو جوړئے او حمل نه اخلی یو زنانه اونه ئے غورځوی مګر په علم دَ الله تعالیٰ سره اونه عمر ورکیدے شی یو عمر ورکړے شوی ته اونه کمے دے شی دَ عمر دَ هغه نه مګر په کتاب (تقدیر) کښ دی یقیناً داکار په الله تعالیٰ باندے اسان دے (۱۱) اونه دی برابر دوه قسمه دریابونه دا یو خوږ دے تنده ماتوونکے اسان دی څکل دَ ده او دا بل مالګین دے مړئے بندوونکے او دَ هر یونه خوریٔ تاسو غوښه تازه او را او باسئے تاسو کالی چه اغوندے تاسو هغے لره او وینے ته کشتیٔ په هغے کښ

[۱۰] دا پنځم عقلی دلیل دے او دلیل انفسی دے دَ نفسونودَحالاتوسره تعلق لری اومحکښ ایت سره ئے مناسبت هم دا دے لکه چه اوچه زمکه کښ الله تعالیٰ ژوند پیداکوی او دا ترقی ده نو دارنګ عزت انسانانوته ورکوی۔ اوپه دیکښ مقصد رد دے په مشرکانو باندے چه هغوی عزت(اومدد) دَخپلو الهو باطلودَ طرف نه ګڼری لکه سورة مریم (۸۱) کښ دی ﴿اِلَيْهِ يَصْعَدُ الْكَلِمُ الطَّيِّبُ﴾ الیه یصعد دلالت کوی چه الله تعالیٰ اوچت اوپورته دے او کیفیت دَهغے دَمتشابهاتونه دے﴿الْكَلِمُ الطَّيِّبُ﴾ مراد دے نه توحید دے۔ یا مراد دے نه اقوال طیبه یعنی کلمات دَتوحید اودَ ذکردَ الله تعالیٰ دی ﴿وَالْعَمَلُ الصَّالِحُ يَرْفَعُهٗ﴾ یعنی عقیده دَ توحید عمل صالح لره پورته کوی مقام دَ قبولیت ته ځکه چه بناء دَ اعمالوپه عقیده باندے ده یا دَعمل صالح په وجه سره اقوال طیبه قبلیږی ځکه چه قول بغیردَعمل نه نه قبلیږی۔ اوتفسیرقرطبی کښ دَ دے دَ تائید دَ پاره یوحدیث غیرمسند ذکرکړے دے، لایقبل الله قولا الابعمل (نه قبلوی الله قول لره بغیردَ عمل نه) ولایقبل قولاًولاعملاً الابنیة (اونه قبلوی الله تعالیٰ قول اوعمل لره مګر په نیت سره) ولایقبل قولاً ولا عملاً ولانیة الا باصابة السنة (اونه قبلوی قول اوعمل اونیت لره مګرپه موافق دَسنت سره) ﴿وَالَّذِيْنَ يَمْكُرُوْنَ السَّيِّاٰتِ﴾ یعنی الله تعالیٰ چه مؤحدینوته عزت ورکړی نومشرکان اوحاسدان دَ هغوی دَ بے عزته کولوکوششونه کوی نوداَ هغوی سزا ذکرکوی۔ یا دَسیئات نه مراد شرك اوکفراوبد اعمال دی مخالف دَکلم طیّب اوعمل صالح نه۔

[۱۱] دا شپږم دلیل عقلی انفسی دے نوراحوال انسانیه ذکرکوی اومناسبت ئے دَ مخکښ سره دا دے چه دَ عزت اختیاردَ الله تعالیٰ سره ځکه دے چه خالق دَ دے انسان اوعالم او تقدیر کوونکے دَ عمر دَ هغه دے اوپه دے ایت کښ دَ انسان دَ پیدائش ماده بعیده (خاورے) اوماده قریبه (نطفه)ذکرکړه۔ اودَ زیاتیدلودَ انسانانودپاره ئے تزویج ذکرکړو﴿بِعِلْمِهٖ﴾ یعنی دَ حمل په مقدار او وخت اونوعه اوشکل وصورت او

مَوَاخِرَ لِتَبْتَغُوْا مِنْ فَضْلِهٖ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۱۲﴾ يُوْلِجُ الَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُوْلِجُ النَّهَارَ فِي الَّيْلِ ۙ وَ
سَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ۙ كُلٌّ يَّجْرِيْ لِاَجَلٍ مُّسَمًّى ؕ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ لَهُ الْمُلْكُ ؕ وَالَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ
دُوْنِهٖ مَا يَمْلِكُوْنَ مِنْ قِطْمِيْرٍ ﴿۱۳﴾ اِنْ تَدْعُوْهُمْ لَا يَسْمَعُوْا دُعَآءَكُمْ ۚ وَلَوْ سَمِعُوْا مَا اسْتَجَابُوْا لَكُمْ ؕ

شلوؤنکی دَ اوبو دپاره دَ دے چه اولټوئے تاسو فضل دَ هغه او دپاره دَ دے چه دَهغه شکر اوکړئے (۱۲) ورننه باسی شپه په ورځ کښ او ورننه باسی ورځ په شپه کښ او په خدمت کښ لګولے دی نمر او سپوږمئے هر یو روان دے دپاره دَ نیټے مقرر دغه صفتونو والا اللّٰه تعالیٰ ستاسو رب دے خاص هغه لره بادشاهی ده او هغه کسان چه تاسوئے بلئے په خپلو حاجتونو کښ سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه اختیار نه لری دَ پوستکی دَ هډوکی دَ کجورے (۱۳) که چرے تاسو بلئے دوی لره (دپاره دَحاجت پوره کولو) نو نه اوری بلنه ستاسو اوکه فرض کړو چه اوری نو نشی پوره کولے حاجت ستاسو

سعادت اوشقاوت وغیره حالاتو باندے اللّٰه تعالیٰ عالم دے ۔ بیا ذکر دَ تقدیر او کمال ارادے دَ اللّٰه تعالیٰ کوی په دے جملے سره ﴿وَمَا يُعَمَّرُ مِنْ مُّعَمَّرٍ﴾ مراد په دواړو جملو سره یوسړے دے یعنی دَ یوسړی عمر په تقدیر کښ لیکلے شویدے مثلاً شپیته کلونه بیایو یو ورځ کمیږی نوپه بل کتاب کښ هغه نقصان لیکلے کیږی تراختتام دَ عمرپورے یا مراد دَ دے نه دوه کسان دی یعنی دَ یوکس عمر زیات دے اودَ بل کس عمرکم دے دا دواړه په تقدیرکښ لیکلے شوی دی۔ دریم قول دادے چه مراد دَ زیادت اونقصان نه زیاتے کمے په برکت اوپه بے برکتے کښ دے په سبب دَ نیکوعملونو اوبدوعملونوسره۔

[۱۲] دا اُوم دلیل عقلی دے اودا دَ عالمِ سفلی دلیل دے مناسبت ئے محکښ سره دا دے لکه چه انسانانو کښ دَ عمر په لحاظ سره مساوات نیشته دارنګ په اوبو کښ هم مساوات نیشته اوپه دے کښ لطیفه، اشاره ده فرق ته په مینځ دَ مؤحد اومشرك کښ ﴿الْبَحْرٰنِ﴾ یوبحرسمندردے چه دَ هغے اوبه مالګینے دی او دا دَ زمکے اوبه دی دویم دَ اسمان اوبه دی چه دَ بارانونوپه ذریعه زمکے ته راځی اودَ هغے نه خوړونه سیندونه جوړشوی دی او بیا سمندرته اورسیږی لیکن دغه اوبه دَ سمندردَ اوبوسره نه خلط کیږی اوداخوګے اوبه وی نوپه دے وصف کښ دوی برابرنه دی ﴿وَمِنْ كُلٍّ﴾ په دے کښ اشاره ده چه په دے دوه فائدو کښ دوی برابر دی لکن فائده اصلی چه څکل دَ اوبودی په هغے کښ دوی برابرنه دی اشاره ده که مؤحد اومشرك په صفت دَشجاعت سخاوت وغیره کښ چرته برابرشی لیکن دَ دوی په اصل اعتقاد کښ برابری نیشته ﴿وَتَسْتَخْرِجُوْنَ﴾ دلته دَ لفظ دَ مِنْ كُلٍّ نه اوپه سورة رحمٰن (۲۲) کښ دَ لفظ منهانه معلومیږی چه جواهرات لؤلؤ مرجان وغیره دَ دواړو دَ اختلاط نه حاصلیږی دَ هغے طریقه دا ده چه دَ سمندر په سطحه باندے صدف کولاؤپروت وی نوپه هغے کښ دَ باران څاڅکی را اُغورزیګی نو صدف بندشی نوڅه وخت روستو دَ هغے نه لؤلؤ مرجان جوړشی۔

[۱۳] دا اتم دلیل عقلی وسطی زمانی دے۔ شپه او ورځ اجزاء دَ زمانے کښ اونمر سپوږمئی دَ دے دَ اختلاف سبب دے دَ دے وجے نه ئے یوائے ذکرکړل ﴿ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ﴾ دانتیجه ده دَ ټولودلیلونواودَ ذکردَ نعمتونوچه په هغے کښ تصرف اوعلم دَ اللّٰه تعالیٰ ذکرشویدے اودَ رب نه مراد معبود اوحاجت روا دے۔

الثلاثة ع ج ج

وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ يَكْفُرُوْنَ بِشِرْكِكُمْ ۭ وَلَا يُنَبِّئُكَ مِثْلُ خَبِيْرٍ ﴿١٤﴾ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اَنْتُمُ الْفُقَرَاۗءُ اِلَى اللّٰهِ ۚ

او په ورځ د قیامت کښ به انکار اوکړی ستاسو ډشرك نه او خبر نشی درکولے تاته پشان د خبردار ذات (چه الله تعالی دے) (١٤) اے خلقوتاسو ټول محتاج ئے الله تعالی ته

﴿وَالَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ﴾ دا رد دے په شرك فی الدعاء باندے په نفی دَمِلك سره دَهرمعبود من دون الله نه﴿وَالَّذِيْنَ﴾ دا لفظ حقیقت دے په ذوی الروح اوذوی العقولو کښ اوبتانوته مجازاً شامل دے نودے کښ تمام معبودان من دون الله داخل دی اوتفسیر روح المعانی کښ هم دغسے لیکلی دی ﴿قِطْمِيْرٍ﴾ هغه نرے پوستکے چه دَهډوکی دَکجورے نه چاپیره وی دا دَعربوپه اصطلاح کښ په مثال دَقلت د ملکیت کښ ذکرکیږی۔اوپه دے کښ اشاره ده چه دا معبودان من دون الله خودا قدرت هم نه لری چه دغه پوستکے دَهډوکی دَکجورے نه روغ اوسالم راجداکړی۔

[١٤] دا رد دے په شرك فی الدعا په طریقه دَ نفی دَ علم اودَ استجابت دَ دُعا دَمعبود من دون الله نه۔اوتفسیرقرطبی او روح المعانی اونورمفسرینولیکلی دی چه دا ایت ملائکو، جناتو، انبیاؤ، شیاطینو او بتانوټولوته شامل دے﴿لَا يَسْمَعُوْا دُعَاۗءَكُمْ﴾ مفسرا الوسی روح المعانی کښ لیکلی دی چه بتان خو ځکه نه آوری چه جمادات دی او ملائك انبیاء (ژوندی) دَ دے وجے نه نه اوری چه لرے وی دَ دے مشرکانونه او اسباب هم مینځ کښ نیشته یا دَ دے وجے نه چه الله تعالی دَ هغوی غوڅونه بچ ساتی دَ داسے شرکی او قبیح آوازونونه دَپاره دَ دے چه خفه نه شی (اوپه تفسیر دَ سورة احقاف کښ لیکلی دی) چه کوم معبودان چه مړۀ دی هغوی نه آوری ځکه چه مړی او ریدل نشی کولے۔

فائده: دا ایت قطعی الدلالة دے په دے مسئله کښ چه مړی بزرګان دَ مشرکانوشرکی آوازونه بالکل نه آوری که نزدے وی او که لرے وی لفظ دَ دعائکم په دے باندے دلیل دے چه مراد دَ دے نه حاجت غوښتل دی او هرچه په مسئله دَ نفی سماع موتیٰ مطلقاً کښ ده نو داصریح نه دے بلکه احتمالی دے۔

فائده: استجابت شامل دے دعاغوښتلوته یعنی که ته دوی ته اُوائیے چه ځما دپاره دعا اوغواړئے نو دُعاهم نشی غوختلے نو معلومه شوه چه ځوك وائی چه هرکله ثابته شی چه مړی آوری نوبیادعا غوختل ترینه هم جائزشوداغلطه خبره ده ﴿بِشِرْكِكُمْ﴾ مراد دَشرك نه طلب دَحاجت دے دَ دوی نه ځکه چه داشرك فی الدعا دے اودا انکارد دوی ذکرشویدے په سورة یونس (٢٩)کښ اوپه سورة احقاف (٥،٦)کښ ﴿مِثْلُ خَبِيْرٍ﴾ مراد دَ خبیرنه الله تعالی دے یعنی که ځوك سماع او استجابت دَ دے معبودانو من دون الله ثابتوی په اقوالو دَ اهل علم وغیره سره نوجواب دا دے چه دَ هغوی قول دَ خبیرذات په مقابله کښ هیڅ حیثیت نه لری ۔

وَاللّٰهُ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيْدُ ﴿١٥﴾ اِنْ يَّشَاْ يُذْهِبْكُمْ وَيَاْتِ بِخَلْقٍ جَدِيْدٍ ﴿١٦﴾ وَمَا ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ بِعَزِيْزٍ ﴿١٧﴾
وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰى ؕ وَاِنْ تَدْعُ مُثْقَلَةٌ اِلٰى حِمْلِهَا لَا يُحْمَلْ مِنْهُ شَيْءٌ وَّلَوْ كَانَ ذَا قُرْبٰى ؕ
اِنَّمَا تُنْذِرُ الَّذِيْنَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَيْبِ وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ ؕ وَمَنْ تَزَكّٰى فَاِنَّمَا يَتَزَكّٰى لِنَفْسِهٖ ؕ وَاِلَى
اللّٰهِ الْمَصِيْرُ ﴿١٨﴾ وَمَا يَسْتَوِي الْاَعْمٰى وَالْبَصِيْرُ ﴿١٩﴾ وَلَا الظُّلُمٰتُ وَلَا النُّوْرُ ﴿٢٠﴾ وَلَا الظِّلُّ وَلَا الْحَرُوْرُ ﴿٢١﴾

او اللّٰه تعالیٰ خاص هغه بے حاجته ستائیلے شویدے (١٥) که چرے اوغواړی فنا به کړی تاسو او رابه ولی مخلوق نوے (١٦) اونه دے داکار په اللّٰه تعالیٰ باندے ګران (١٧) اونه شی پورته کولے یو پیتی والا پیتے (دَګناهونو) دَبل چا او که چرے اواز ورکړی یو درون بارے خپل بارته نو نشی پورته کیدے دَهغه نه هیڅ شیز اګر چه خپلوے والا وی یقیناً ستا ویره اثرکوی په هغه کسانو باندے چه ویریږی دَ رب خپل نه په حالت دَنه لیدلو کښ او پابندی کوی دَ مونځ او چاچه ځان پاك کړو نو یقیناً پاکول کوی د پاره دَ فائدے دَځان خپل او خاص اللّٰه تعالیٰ ته ګرځیدل دی (١٨) او برابر نه دے ړوند او لیدونکے (١٩) اونه تیَرے او نه رنړا (٢٠) اونه سورے اونه ګرمی (٢١)

[١٥] دَ دے ایت نه تر(٣٨) پورے دویم باب دے په دے کښ دوه عقلی دلیلونه دی بیا تخویف اخروی بیا مثالونه بیا تسلی نبی ﷺ ته بیا تفصیلی بشارت اوتخویف دے۔ په دے (١٥)کښ نهم عقلی دلیل دے ﴿اَلْفُقَرَآءُ﴾ معرفه دلالت کوی په کامل فقر باندے په هرځیزاوپه هرحالت کښ که نبی وی یاولی یا مالداروی یامسکین وغیره ﴿اَلْغَنِيُّ﴾ دائیے هم معرفه ذکرکړه ځکه چه مراد ترینه کامله غِناده چه هغه عدم احتیاج دے او انسان که ډیر مالداروی نوهم محتاج وی ﴿اَلْحَمِيْدُ﴾ داصفت ئیے دَ دے وجے نه ذکرکړو چه یو انسان چه دَ خلقونه ځان بے پرواکړی نو دَ هغه بدی وئیلے کیږی او دَ اللّٰه تعالیٰ سرهٔ دَ غِناء کامل نه حمد وئیلے کیږی ځکه چه مخلوق لره نعمتونه اوفائدے ورکوی۔

[١٦،١٧] دا دواړه دَ مخکښ دلیل سره متعلق دی یعنی تصرف کُلّیّ اوغناء کامله دَ هغه ذکر کوی۔

[١٨] روستودَ دلیلونودَ توحید اودَ رد دَ شرك نه تخویف دے یعنی لکه چه دَ مشرك حاجت روائي په دنیاکښ معبودان من دون اللّٰه نشی کولے نودارنګ په آخرت کښ هم دَ دهٔ پیتے دَګناه هغه مشرکان پیران وغیره نشی پورته کولے چاچه دهٔ ته شرك خودلے ﴿وَاِنْ تَدْعُ﴾ په دے جمله کښ مطلب دا دے چه په طلب اومنت زارئے سره هم دَمشریتے بل څوك نشی پورته کولے ﴿اِنَّمَا تُنْذِرُ﴾ تسلی ده نبی ﷺ ته یعنی دَګناه(وزر) نه بچ کیدلودپاره بله لارنیشته سیوا دَ انذارنه۔ دارنګ هرکله چه دلیلونه تفصیلاً بیان شول خولیکن مشرکانوضدیانوته فائده نه ورکوی نو نبی ﷺ ته ئیے تسلّی ورکړه چه ستا انذار خشیت والوته فائده ورکوی۔او دَ خشیت ظاهری نخه اقامة الصلاة دے نو ﴿اَقَامُوا الصَّلٰوةَ﴾ ئیے دَ دے وجے نه ذکر کړو ﴿وَمَنْ تَزَكّٰى﴾ دا دَ انذار فائده ده۔

[١٩،٢٠،٢١]داعلت دے دَپاره دَتخصیص دَانذارپه خشیت والوپورے یعنی خشیت والوته انذارفائده ورکوی اونوروته فائده نه ورکوی ځکه چه دَ دوی په حالاتوکښ ډیر فرق دے۔ او دامثالونه دپاره دَ اثبات دَ فرق په مینځ دَ مؤحد (خشیت کوؤنکی) او ضدی عنادی کښ دی۔ اول مثال چه داعنادی پشان دَ

وَمَا يَسْتَوِي الْاَحْيَآءُ وَلَا الْاَمْوَاتُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يُسْمِعُ مَنْ يَّشَآءُ ۚ وَمَآ اَنْتَ بِمُسْمِعٍ مَّنْ فِي الْقُبُوْرِ ﴿۲۲﴾ اِنْ
اَنْتَ اِلَّا نَذِيْرٌ ﴿۲۳﴾ اِنَّآ اَرْسَلْنٰكَ بِالْحَقِّ بَشِيْرًا وَّنَذِيْرًا ؕ وَاِنْ مِّنْ اُمَّةٍ اِلَّا خَلَا فِيْهَا نَذِيْرٌ ﴿۲۴﴾ وَاِنْ يُّكَذِّبُوْكَ
فَقَدْ كَذَّبَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۚ جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ وَبِالزُّبُرِ وَبِالْكِتٰبِ الْمُنِيْرِ ﴿۲۵﴾ ثُمَّ اَخَذْتُ

او نه دی برابر ژوندی او نه مړی یقیناً اللّٰه تعالیٰ اورول کوی چاته چه اوغواړی اونه ئے ته اوروؤنکے هغه چاته چه په قبرونو کښ دی (۲۲) نه ئے ته مګر ویره ورکوؤنکے ئے (۲۳) یقیناً لیږلے ئے مونږ ته په حقه سره زیرے ورکوؤنکے او ویره ورکوؤنکے اونیشته دے هیڅ امت مګر تیر شویدے په هغے کښ ویره ورکوؤنکے (۲٤) او که دوی تاته دروغژن وائي نو یقیناً دروغژن وئیلی (پیغمبرانوته) هغه کسانو چه دَ دوی نه مخکښ وو راغلی وؤ هغوی ته رسولان دَ هغوی په ښکاره دلیلونو او دَ وعظ په خبرو او په کتاب رنړا والا سره (۲۵) بیا اونیول ما

ړوند دے اومؤحد پشان دَ بینادے لکه چه دَ دے دواړو په مینځ کښ په لیدلودَ رنړااوتیَرواوپه لیدلودَ مضراتو اومفید ځیزونواوصحیح لار او غلطه لار وغیره کښ فرق دے نودارنګ دَ مؤحد اومشرك په مینځ کښ هم په دغه امورو کښ فرق دے۔ دویم مثال یعنی کفر اوشرك اودَ هغے دلیلونه پشان دَ ظلماتودی اوتوحید اوایمان اودَ هغے دلیلونه پشان دَ نوردی۔ دریم مثال یعنی دَ توحید اودَ ایمان نتیجه اوعوض په دُنیا او اخرت کښ ارام دے اوهغه په شان دَ سوری دے اودَکفروشرك عاقبت په دنیا او اخرت کښ عذاب او سخت ژوند دے اوهغه پشان دَ حرور(سخته ګرمئی) دے۔

[۲۲] داخلورم مثال دے اومؤحدین(خشیت کوؤنکی دَ اللّٰه تعالیٰ نه) پشان دَ ژوندو دی چه ټول قوتونه اوحواس ئے کارکوی(آوریدل،لیدل،پوهیدل) اومشرکان عنادیان پشان دَ مړو دی چه ټول قوتونه اوحواس ئے بے کارشویدی یعنی مړی نه آوری اونه وینی اونه پوهیږی نودارنګ عنادی مشرك هم (صُمٌّ بُكْمٌ عُمْيٌ) دے ﴿اِنَّ اللّٰهَ يُسْمِعُ مَنْ يَّشَآءُ وَمَآ اَنْتَ بِمُسْمِعٍ مَّنْ فِي الْقُبُوْرِ﴾ داپنځم مثال دے سرهٔ دَ تسلّیٔ دَ رسول اللّٰه ﷺ نه اومتعلق دے دَ انما تنذرسره۔ دَ دے مثال مطلب اوحاصل دادے چه هغه کافران ضدیان مشابه دی دَ هغه بدنونو سره چه په قبرونوکښ دفن کړے شوی دی چه په هغوی کښ روح نیشته اونه آوری نه وینی اونه پوهیږی دَ دنیا په حال باندے نو دارنګ داکافران هم نه آوری اونه پوهیږی نوته دوی ته آؤرول نشے کولے بلکه آورول دَ اللّٰه تعالیٰ په قدرت کښ دی ۔ دا ایت هم دلیل دے چه مړے دَ دنیاوالو خبرے نه آوری اونه دوی لره پیژنی۔ دَ دے تشریح په تفسیر دَ سورة روم کښ ذکرکړے شویده۔

فائده: ﴿مَنْ فِي الْقُبُوْرِ﴾ په قبرکښ صرف بدن پروت دے هغه بالکل نه آوری او هرچه روح دے نوپه قبرکښ نیشته اوحیات او اؤریدل خوپه روح سره کیږی۔

[۲۳] داهم تسلّی ده چه ستاکار انذار دے۔

[۲٤] داهم تسلّی ده اوتفصیل دَ صفت دَ انذار دے۔

[۲٥،۲٦] داهم تسلّی ده اوجواب دَ شرط حذف دے یعنی(فاصبر،صبرکوه) ﴿بِالْبَيِّنٰتِ﴾مراد دَ دے نه معجزات دی یا ښکاره احکام چه په صرف عقل سره معلومیږی چه دا صحیح دی یعنی عقلی دلیلونه۔

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فَكَيْفَ كَانَ نَكِيْرِ ﴿٢٦﴾ اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً ۚ فَاَخْرَجْنَا بِهٖ ثَمَرٰتٍ مُّخْتَلِفًا
اَلْوَانُهَا ؕ وَمِنَ الْجِبَالِ جُدَدٌۢ بِيْضٌ وَّحُمْرٌ مُّخْتَلِفٌ اَلْوَانُهَا وَغَرَابِيْبُ سُوْدٌ ﴿٢٧﴾ وَمِنَ النَّاسِ وَالدَّوَآبِّ
وَالْاَنْعَامِ مُخْتَلِفٌ اَلْوَانُهٗ كَذٰلِكَ ؕ اِنَّمَا يَخْشَى اللّٰهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمٰٓؤُا ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ غَفُوْرٌ ﴿٢٨﴾ اِنَّ
الَّذِيْنَ يَتْلُوْنَ كِتٰبَ اللّٰهِ وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاَنْفَقُوْا مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ سِرًّا وَّعَلَانِيَةً يَّرْجُوْنَ تِجَارَةً لَّنْ

هغه کسان چه کفرئے کړے وؤ نو څه رنګه شو عذاب زما (٢٦) ایا نه ګورے ته چه یقیناً الله تعالیٰ راورولی دی دَ اسمان دَ طرف نه اوبه نو را اوباسو مونږ په هغے سره میوے (غلے) چه مختلف دی رنګونه دَ هغے او دَ غرونونه ټکړے سپینے او سرے مختلف دی رنګونه دَ هغوی او دَ کارغانو پشان تك تور دی (٢٧) او دَ انسانانو او زنده سرو او څاروؤ نه مختلف دی رنګونه دَ هغوی د غه شان یقیناً ویریږی دَ الله تعالیٰ نه دَ بندګانو دَ هغه نه عالمان یقیناً الله تعالیٰ زورآور اوبخنه کوؤنکے دے (٢٨) یقیناً هغه کسان چه لولی کتاب دَ الله تعالیٰ او پابندی کوی دَ مونځ او خرچ کوی دَ هغے نه چه ورکړی دی مونږ دوی ته پټ او ښکاره امید لری دَ سود اګرئے چه نه

﴿وَبِالزُّبُرِ﴾ واړه کتابونه یعنی صحیفے یا دَوعظ اونصیحت خبرے ﴿وَبِالْكِتٰبِ الْمُنِيْرِ﴾ مراد ترینه غټ کتاب دے لکه تورات انجیل اونسبت دَ درے واړو څیزونو ټولوانبیاؤ ته دے په طریقه دَ مجموعه سره یعنی بعضے انبیاؤپه دے کښ یوځیز راوړے دے اوبعضودوه څیزونه راوړیدی او بعضو درے واړه راوړیدی لکه موسیٰ علیه السلام۔

[٢٧] دالسم دلیل عقلی دے په دے کښ هم اختلاف دَ ثمراتواواختلاف دَ غرونو په رنګونو کښ ذکرکوی هرکله چه په تیرشوی دلیلونو کښ عام خطاب مشرکانوته ذکرشو لیکن هغوی ترینه فائده نه اخلی او دَ هغوی تکذیب ذکر کړے شونو اوس خاص خطاب کوی نبی ﷺ ته اوهغه چاته چه دَدے خطاب اهلیت لری۔ اصول دَ رنګونو درے دی سپین ،سور، اوتور۔ بیا دَګډون دَسپین اوسورنه نور رنګونه هم جوړیږی نودَ هغے نه روستو مختلف الوانها ذکرکړل ﴿جُدَدٌ﴾ مختلفو لاروته وائي اومختلفوټکړوته هم وئیلے کیږی ﴿غَرَابِيْبُ سُوْدٌ﴾ سود بدل دے دَغرابیب نه ځکه چه غرابیب دَ غراب نه دے اوپه غراب (کارغه) کښ بعضے خړ رنګ وی نوپه سود سره ئے دَ هغه وضاحت اوکړو چه دلته تور مراد دی۔

[٢٨] دا یؤولسم دلیل عقلی دے په دے کښ اختلاف دَاهل روح ذکرکوی په رنګونو کښ ﴿اِنَّمَا يَخْشَى اللّٰهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمٰٓؤُا﴾ دا متعلق دَ انما تنذرالذین یخشون ربهم سره دے یعنی هرکله چه مثالونه اودلیلونه بیان شول نوسوال پیداشوچه دَ دے نه اثرقبولوؤنکی څوك دی؟ نوپه دے جمله کښ دَ هغے جواب دے چه دَ تاثیردَ قرآن دپاره علم ضروری دے یعنی خشیت موقوف دے په معرفت دَ قدراودَشان دَ مخشیٰ (هغه څوك چه دَ هغه نه ویره کیدیشی) پورے نبی ﷺ فرمائیلی دی انی لاعلمکم بالله واخشاکم لهٗ۔ اومعرفت دَ قدر اوشان په علم سره دے نو څوك چه دَ الله تعالیٰ شان ،قدر، اسماء اوصفتونه نه پیژنی نوهغه دَ الله تعالیٰ نه نه ویریږی اګرچه په خولے باندے دعوے دَایمان کوی۔ دا ایت صریح دلیل دے په فضیلت دَ علم باندے دَ هغه عبادت نه چه بغیردَعلم نه وی۔

تَبُوْرَ ﴿٢٩﴾ لِيُوَفِّيَهُمْ اُجُوْرَهُمْ وَيَزِيْدَهُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ ؕ اِنَّهٗ غَفُوْرٌ شَكُوْرٌ ﴿٣٠﴾ وَالَّذِيْٓ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ مِنَ
الْكِتٰبِ هُوَ الْحَقُّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بِعِبَادِهٖ لَخَبِيْرٌۢ بَصِيْرٌ ﴿٣١﴾ ثُمَّ اَوْرَثْنَا الْكِتٰبَ
الَّذِيْنَ اصْطَفَيْنَا مِنْ عِبَادِنَا ۚ فَمِنْهُمْ ظَالِمٌ لِّنَفْسِهٖ ۚ وَمِنْهُمْ مُّقْتَصِدٌ ۚ وَمِنْهُمْ سَابِقٌۢ بِالْخَيْرٰتِ بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ
ذٰلِكَ هُوَ الْفَضْلُ الْكَبِيْرُ ﴿٣٢﴾ جَنّٰتُ عَدْنٍ يَّدْخُلُوْنَهَا يُحَلَّوْنَ فِيْهَا مِنْ اَسَاوِرَ مِنْ ذَهَبٍ وَّلُؤْلُؤًا ۚ وَلِبَاسُهُمْ
فِيْهَا حَرِيْرٌ ﴿٣٣﴾ وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْٓ اَذْهَبَ عَنَّا الْحَزَنَ ؕ اِنَّ رَبَّنَا لَغَفُوْرٌ شَكُوْرٌ ﴿٣٤﴾ الَّذِيْٓ اَحَلَّنَا

بیکاره کیږی (۲۹) دَ دے دپاره چه پوره ورکړی دوی ته اجرونه دَ دوی او زیات ورکړی دوی ته دَ فضل خپل نه یقیناً اللّٰه تعالیٰ بخنه کوؤنکے دے قبلوؤنکے دے (۳۰) او هغه چه وحی درلیږلے ده مونږ تاته چه کتاب دے هغه حق دے رشتینی کوؤنکے دے دَهغه کتابونو چه دَ دهٔ نه مخکښ دی یقیناً اللّٰه تعالیٰ په بندګانو خپلو باندے خبردار دے لیدونکے دے (۳۱) بیا ورکړو مونږ کتاب هغه کسانو ته چه غوره کړی دی مونږ دَ بندګانو خپلو نه نو بعض دَ دوی نه ظلم کوؤنکی دی په ځان خپل باندے او بعض دَ دوی نه میانه روه دی او بعض دَ دوی نه روانده کیږی په ښه کارونو سره په توفیق دَ اللّٰه تعالیٰ سره دا چه دے فضل ډیرلوے دے (۳۲) باغونه دَ همیش والی چه داخلیږی به هغے ته کالی به اچولے کیږی دوی ته دَ بنګړو دَ سرو زرونه او ملغلرے او جامے دَ دوی په هغے کښ ریښم دی (۳۳) او دوی به وائي دَ خدائے صفتونه دَ یو اللّٰه تعالیٰ دی هغه ذات چه لرے ئے کړو زمونږ نه ټول غم یقیناً رب زمونږ ضرور بخنه کوؤنکے قبلوؤنکے دے (۳٤) هغه ذات دے چه رادننه ئے کړو مونږه

[۲۹] هرکله چه مخکښ خشیت والاذکرکړل چه دا علماء دی نوپه دے ایت کښ دَ هغوی کردار اوبشارت ذکرکوی ﴿يَتْلُوْنَ﴾ مراد دَ دے نه دوام دَتلاوت اودَ درس وتدریس دَ اياتونودے سره دَ علم اوعمل کولونه۔

فائده: خشیت عبادت قلبیه دے اوتلاوت عبادت لسانیه دے او اقامة الصلوة عبادت بدنیه دے او انفاق عبادت مالیه دے۔

[۳۱] هرکله چه تیرشوی اياتونوکښ بشارت دَ عالمانودَ ایات الٰهیه ذکرکړونو په دے ایت کښ دَ ایات الٰهیه چه کتاب اللّٰه دے دَ هغے صدق اومرتبه ذکرکوی ۔

[۳۲] په دے ایت کښ دَ اصحاب قرآن درے درجے ذکرکوی اوهغوی ته بشارت دے ﴿الَّذِيْنَ اصْطَفَيْنَا﴾ صحابه کرام دی اوروستودَ هغوی تابعداران۔ اومراد دَ ﴿ظَالِمٌ﴾ نه هغه مؤمن دے چه ګناهونه ئے ډیردی دَ نیك اعمالونه او ﴿لِنَفْسِهٖ﴾ کښ اشاره ده چه ظلم دَ دهٔ بل چاته متعدی نه دے یعنی بل څوك ګمراهئی ته نه رابلی او ﴿مُقْتَصِدٌ﴾ نه مراد هغه دے چه ګناهونه او طاعتونه ئے برابر دی او ﴿سَابِقٌۢ﴾ هغه دے چه ګناهونه ئے لګ وی په نسبت دَ طاعاتو۔

[۳۳،۳٤،۳۵] په دے اياتونوکښ بشارت دے درے واړه اقساموته په بیان دَ لس حالاتودَخوشحالئ سره۔ ﴿اَسَاوِرَ﴾ په دے تخصیص کښ اشاره ده چه دوی به دَکارکولونه فارغ وی ځکه چه په لاسونوکښ

دَارَ الْمُقَامَةِ مِنْ فَضْلِهٖ ۚ لَا يَمَسُّنَا فِيْهَا نَصَبٌ وَّلَا يَمَسُّنَا فِيْهَا لُغُوْبٌ ﴿٣٥﴾ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَهُمْ نَارُ جَهَنَّمَ ۚ
لَا يُقْضٰى عَلَيْهِمْ فَيَمُوْتُوْا وَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمْ مِّنْ عَذَابِهَا ۭ كَذٰلِكَ نَجْزِيْ كُلَّ كَفُوْرٍ ﴿٣٦﴾ وَهُمْ يَصْطَرِخُوْنَ
فِيْهَا ۚ رَبَّنَآ اَخْرِجْنَا نَعْمَلْ صَالِحًا غَيْرَ الَّذِيْ كُنَّا نَعْمَلُ ۭ اَوَلَمْ نُعَمِّرْكُمْ مَّا يَتَذَكَّرُ فِيْهِ مَنْ تَذَكَّرَ وَ ع ٤
جَاۗءَكُمُ النَّذِيْرُ ۭ فَذُوْقُوْا فَمَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ نَّصِيْرٍ ﴿٣٧﴾ اِنَّ اللّٰهَ عٰلِمُ غَيْبِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ اِنَّهٗ عَلِيْمٌۢ
بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿٣٨﴾ هُوَ الَّذِيْ جَعَلَكُمْ خَلٰۗىِٕفَ فِي الْاَرْضِ ۭ فَمَنْ كَفَرَ فَعَلَيْهِ كُفْرُهٗ ۭ وَلَا يَزِيْدُ الْكٰفِرِيْنَ

کور دَ دیره کیدلو ته دَ وجے دَ فضل خپل نه نه به رسیږی مونږ ته په دے کښ هیڅ تکلیف اونه به رسیږی مونږ ته په دے کښ ستړے والے (۳۵) او هغه کسان چه کفر ئے کړیدے دوی دپاره اور دَ جهنم دے فیصله به نه کیږی په دوی باندے (دَمرګ) چه مړه شی او نه به شی سپکیدلے دَ دوی نه دَ عذاب دَ هغے نه دغه شان سزا ورکوو مونږهر منکر ته (۳۶) او دوی به چغے وهی په هغے کښ اے ربه زمونږه اوباسے مونږه عملونه به کوؤ دَ سنت برابر سیوا دَ هغه عملونونه چه مونږ کول (اوبه وئیلے شی) ایا عمر نه وؤ درکړے مونږ تاسوته دومره چه نصیحت قبول کړے وؤ په هغے کښ چاچه نصیحت قبلوؤ او راغلے وؤ تاسوته ویره درکوؤنکے نو اوڅکئے نیشته دَظالمانو دپاره هیڅ مددګار(۳۷) یقیناً اللّٰه تعالیٰ عالم دے په پټو ځیزونو دَ اسمانونو او دَ زمکے یقیناً هغه پوهه دے په هغه خبرو چه په سینو دَ خلقو کښ دی (۳۸) خاص اللّٰه تعالیٰ هغه ذات دے جوړ کړی ئے تاسو یوبل پسے اٰبادوؤنکی په زمکه کښ نو چاچه کفر اوکړو نو په هغه باندے به سزا دَ کفر دَ هغه وی اونه زیاتوی کافرانو لره

کالی دَ هغهٔ چاوی چه پخپله هیڅ خدمت اوکارنه کوی ﴿الْحَزَنَ﴾ مراد دَ دے نه ټول غمونه دَ دنیا اودَ آخرت دی۔ غم دَ اوردَجهنم، غم دَ مرګ، دَګناهونو غم، دَحساب غم، دَمیزان غم، دَ زوال دَ نعمتونوغم، دَ روزئے غم دَعاقبت ﴿نَصَبٌ﴾ ستړے کیدل دَ بدن په محنت یا په مرض وغیره ﴿لُغُوْبٌ﴾ ستړے کیدل دَ نفس په غمونو اوتکلیفونوسره۔

[۳۶] دا تخویف اُخروی دے منکرینولره په درے حالتونوسره۔

[۳۷] داهم تخویف دے په ذکرد ځلوروطریقوسره ﴿غَيْرَ الَّذِيْ كُنَّا نَعْمَلُ﴾ دا لفظ دلیل دے چه دوی به خپلوعملونوته صالح وئیل (ویحسبون انهم یحسنون صنعا) اوس ورته معلومه شوه چه هغه عملونه صالح نه وؤځکه دا قید ئے اولګوؤ ﴿مَا يَتَذَكَّرُ فِيْهِ﴾ حدیث دَ بخاری دے چه چالره اللّٰه تعالیٰ شپیته کاله عمر ورکړے دے نو دَ دهٔ هره بهانه ئے روکه کړے ده ﴿النَّذِيْرُ﴾ مراد دَ دے نه پیغمبر دے یا کتاب اللّٰه دے یا هرداعی دَ حق دے یا بوډاوالے(سپین والے دَ ویښتو دے)۔

[۳۸] دا دریم باب دے ترآخر دَ سورة پورے په دے کښ درے عقلی دلیلونه دی اوطلب دَ دلیل دے دَ مشرکانونه او زجر دے اهل شرك ته اوپه آخرکښ تخویف دنیوی تفصیلی دے۔ په دے(۳۸) کښ یۅولسم عقلی دلیل دے په باره دَ علم غیب دَ اللّٰه تعالیٰ کښ۔ اوپه دے کښ اشاره ده جواب دَ مشرکینوته یعنی اللّٰه تعالیٰ عالم دے په دے خبره باندے که تاسو دنیاته واپس اوګرځوی نو بیاهم تاسو عمل صالح نه کوئے۔

كُفْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ اِلَّا مَقْتًا ۚ وَلَا يَزِيْدُ الْكٰفِرِيْنَ كُفْرُهُمْ اِلَّا خَسَارًا ﴿٣٩﴾ قُلْ اَرَءَيْتُمْ شُرَكَآءَكُمُ الَّذِيْنَ
تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ اَرُوْنِيْ مَاذَا خَلَقُوْا مِنَ الْاَرْضِ اَمْ لَهُمْ شِرْكٌ فِي السَّمٰوٰتِ ۚ اَمْ اٰتَيْنٰهُمْ كِتٰبًا
فَهُمْ عَلٰى بَيِّنَتٍ مِّنْهُ ۚ بَلْ اِنْ يَّعِدُ الظّٰلِمُوْنَ بَعْضُهُمْ بَعْضًا اِلَّا غُرُوْرًا ﴿٤٠﴾ اِنَّ اللّٰهَ يُمْسِكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ
اَنْ تَزُوْلَا ۚ وَلَئِنْ زَالَتَآ اِنْ اَمْسَكَهُمَا مِنْ اَحَدٍ مِّنْ بَعْدِهٖ ؕ اِنَّهٗ كَانَ حَلِيْمًا غَفُوْرًا ﴿٤١﴾ وَاَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ جَهْدَ

کفر کول دَ هغوی په نیز دَ رب دَ هغوی مګر غصه اونه زیاتوی کافرانو لره کفر کول دَ هغوی مګر تاوان (۳۹) ته اُوایه ایا پوهه ئیے تاسو په باره دَ شریکانو ستاسو هغه چه تاسو ئیے بلنه کوئ سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه اوخائے ماته چه څه پیدا کړیدی دوی دَ زمکے نه ایا دوی لره برخه ده په اسمانونو کښ او یا ورکړے دے مونږ دوی ته کتاب نو دوی په ښکاره دلیل باندے دی دَ دغه کتاب نه بلکه وعدے نه کوی ظالمان بعض دَ دوی دَ بعضو سره مګر دَ دهوکے (٤٠) یقیناً اللّٰه تعالیٰ راتینګوی اسمانونه او زمکه دَ خوځیدلو دَ خپل ځائے نه اوکه چرے دوی اوخوځیدل نشی راتینګولے دوی لره هیڅوك روستو دَ خوځیدلو نه یقیناً اللّٰه تعالیٰ صبر ناك بخنه کوؤنکے دے (٤١) او قسمونه کړی دی دوی په اللّٰه تعالیٰ باندے پاخه

[٣٩] دا دولسم دلیل عقلی دے یعنی هرکله چه اللّٰه تعالیٰ عالم دے په هرڅیزباندے نودَ دے وجے نه تاسوله ئیے دَ استعداد موافق خلافت درکړے دے ﴿خَلٰٓئِفَ﴾ یوبل پسے اباد وؤنکی دَ زمکے یا روستنی امتیان خلیفګان دی دَ تیر شوؤامتونو خَلِيْفَه هغه څوك چه نائب وی دَبل چانه په کار چلؤلودَ هغه کښ اوهرکله چه اللّٰه تعالیٰ نائب ته محتاج نه دے دَ دے وجے ابوبکرؓ لفظ یا خلیفة اللّٰه بدګنړلے دے اوخلیفة رسول اللّٰه ﷺ ئیے غوره کړے دے اودا تفسیرقرطبی کښ ذکردی ﴿وَلَا يَزِيْدُ الْكٰفِرِيْنَ﴾ یعنی څومره چه په کفر کښ ترقی کوی نو دومره دَ اللّٰه تعالیٰ غضب په هغه باندے زیاتیږی اودَ غضب الٰهی په سبب دَ دے کافر خُسران او تاوان زیاتیږی ځکه چه سرمایه دَ عمرئیے بے ځایه خرچ کیږی۔

[٤٠] په دے ایت کښ زجردے مشرکینوته (چه مخکښ ایت کښ په من کفرسره ذکرشول) اوطلب دَ دلیل دے په شرك باندے اول دلیل عقلی سفلی دویم دلیل عقلی علوی دریم دلیل نقلی او وحی دَنازل کړے شوی کتاب نه ﴿بَلْ اِنْ يَّعِدُ الظّٰلِمُوْنَ﴾ یعنی دلیلونه نیشته بلکه خالص تقلید دے دا کشران په مشرانو ګمراهانو پسے بے دلیله روان دی اوګمراهان (مشرکان) ورله دهوکه ورکوی باطله خبره ورته حقه ښکاره کوی شرك ورته توحید اوبدعت ورته سنت ښکاره کوی۔

[٤١] دا دیارلسم دلیل عقلی دے هرکله چه دَ معبودان من دون اللّٰه عجزاوکمزوی بیان شوه نو اوس اللّٰه تعالیٰ خپل عظمت شان بیانوی ﴿اِنَّهٗ كَانَ حَلِيْمًا﴾ یعنی دَ مخلوق دَ ګناهونو دَ وجے نه نزدے ده چه اسمانونه اوزمکه زائله شی لیکن اللّٰه تعالیٰ حلیم دے دَ مخلوق نه(چه مستحق دَ عذاب وی)عذاب روستو کوی۔

اَيْمَانِهِمْ لَئِنْ جَآءَهُمْ نَذِيْرٌ لَّيَكُوْنُنَّ اَهْدٰى مِنْ اِحْدَى الْاُمَمِ ۚ فَلَمَّا جَآءَهُمْ نَذِيْرٌ مَّا زَادَهُمْ اِلَّا نُفُوْرًا ۙ ﴿٤٢﴾
اسْتِكْبَارًا فِي الْاَرْضِ وَمَكْرَ السَّيِّئِ ۚ وَلَا يَحِيْقُ الْمَكْرُ السَّيِّئُ اِلَّا بِاَهْلِهٖ ۭ فَهَلْ يَنْظُرُوْنَ اِلَّا سُنَّتَ الْاَوَّلِيْنَ ۚ
فَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّتِ اللّٰهِ تَبْدِيْلًا ۚ وَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّتِ اللّٰهِ تَحْوِيْلًا ﴿٤٣﴾ اَوَلَمْ يَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ فَيَنْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ
عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَكَانُوْٓا اَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً ۭ وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُعْجِزَهٗ مِنْ شَيْءٍ فِي السَّمٰوٰتِ وَلَا

قسمونه خپل که چرے راغے دوی ته ویره ورکوؤنکے ضرور دوی به ښه هدایت والا شی د هر یو د امتونو نه نو هرکله چه راغے دوی ته ویره ورکوؤنکے نو زیات ئے نه کړو دوی لره مګر نفرت (٤٢) د وجے د لوئے کولونه په زمکه کښ (او کوی دوی) ناکاره چلونه اونه راګیروی ناکاره چل ول مګر حقدار د هغے نو انتظار نه کوی دوی مګر د طریقے د مخکښنو خلقو نو اوبه نه مومے ته طریقے د الله تعالیٰ لره بدلیدل اوهیڅرے اوبه نه مومے ته طریقے د الله تعالیٰ لره اوړیدل (٤٣) ایا دوی نه ګرځی په ملك کښ چه اوګوری چه څه رنګ شو آخری انجام د هغه کسانو چه د دوی نه مخکښ وؤ او وؤ هغوی ډیر سخت د دوی نه په قوت کښ اونه دے الله تعالیٰ چه بے وسه کړی هغه لره هیڅ څیز په اسمانونو کښ او نه

[٤٢] دا زجردے په انکارد رسالت اوپه ماتولو د قسم سره هرکله چه مشرکین عرب ته معلومه شوه چه یهودیانو او نصاریٰ د ځپلورسولانونه انکار کړے دے نو دوی قسم اوکړو چه که چرے مونږ ته رسول راغے نومونږ به د هغه پوره تابعداری کوؤ ﴿اِحْدَى الْاُمَمِ﴾ دا اضافت دپاره د استغراق دے یعنی د هریو امت د امتونو مخکنونه چه یهود او نصاریٰ دی ﴿نُفُوْرًا﴾ اشاره ته تشبیه ده د اوښانو سره لکه چه یو اوښ د مالك نه اوتختی اوهغه ئے رابلی نو د دهٔ تختیدل نورهم زیاتیږی۔

[٤٣] مراد د دے نه مؤمنانو او نبی ﷺ سره دهوکے کول او د هغوی د تکلیف ورکولو یا قتل کولو دپاره چلونه جوړول یا هغوی ته خیرے کول دی ﴿وَلَا يَحِيْقُ الْمَكْرُ السَّيِّئُ اِلَّا بِاَهْلِهٖ﴾ یعنی د هغے چلونو اودهوکواثربه واپس په دوی باندے پریوځی او بد دُعائې به واپس په دوی باندے راځی تفسیر قرطبی کښ وئیلی دی چه کعب الاحبار یوځل ابن عباس رضی الله عنهما ته اُوئیل چه په تورات کښ لیکلی دی چه من حفرلاخیه حفرةً وقع فیها (څوك چه رورته کنده اوکنی نودے به پکښ پریوځی) نوابن عباس رضی الله عنهما ورته اوئیل چه داسے په قرآن کریم هم شته او داجمله ئے اولوستله ﴿تَبْدِيْلًا، تَحْوِيْلًا﴾ کښ فرق دے په څووجوهو سره اوله وجه داده چه تبدیل دا دے چه عذاب لرے کړی او نعمت اوعافیت راولی او تحویل دا دے چه عذاب کښ تخفیف راولی، دویم فرق دا دے چه څوك طاقت نه لری چه عذاب د الله تعالیٰ بدل کړی او دارنګ طاقت نه لری چه عذاب د ځان نه واړوی بل چاته۔

فِي الْاَرْضِ ؕ اِنَّهٗ كَانَ عَلِيْمًا قَدِيْرًا ﴿٤٤﴾ وَلَوْ يُؤَاخِذُ اللّٰهُ النَّاسَ بِمَا كَسَبُوْا مَا تَرَكَ عَلٰى ظَهْرِهَا مِنْ دَآبَّةٍ
وَّلٰكِنْ يُّؤَخِّرُهُمْ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى ۚ فَاِذَا جَآءَ اَجَلُهُمْ فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِعِبَادِهٖ بَصِيْرًا ﴿٤٥﴾ ع

په زمکه کښ یقیناً اللّٰه تعالیٰ پوهه دے قدرت والا دے (٤٤) او که چرے نیولے اللّٰه تعالیٰ خلقو لره په وجه دَ هغه کارونو چه دوی کړی دی نه به ئیے وؤ پریخودلے په شا دَ زمکه باندے هیڅ زنده سر لیکن روستو کوی دوی لره تر نیټے مقرر پورے نو کله چه راشی نیټه دَ دوی پس یقیناً اللّٰه تعالیٰ دے بندګانو خپلو لره لیدونکے (٤٥)

[٤٤] داهم تخویف دنیوی دے هرکله چه سنة الاولین ئیے ذکرکړو نو په دے ایت کښ دَ هغے نه دَ عبرت حاصلولو طریقه ذکر کوی چه هغه سیل کول او نظر کول دی اوتنبیه ورکوی چه اللّٰه تعالیٰ سره په هیڅ طریقه مقابله نشی کیدلے۔

[٤٥] داهم داخل دے په تخویف دنیوی کښ اوهرکله چه منکرینو عذاب په تادئے سره طلب کوؤ نو په دے ایت کښ دَ هغے جواب دے﴿النَّاسَ﴾دَ دے نه مراد ګناه ګارانسانان دی که مؤمنان وی او که مشرکان وی﴿بِمَا كَسَبُوْا﴾یعنی په ټولو ګناهونودَ دوی چه یوهم ورته نه معاف کوی۔ اوټول دَ دے وجے نه مراد دی چه په بعض ګناهونو سره په دنیا کښ بعضے عذابونه راځی لکه په سورة روم (٤١) کښ تیرشوی دی۔ ﴿مَا تَرَكَ عَلٰى ظَهْرِهَا﴾ انسانان چه دَ زمکے په کوم طرف باندے سکونت کوی نو دَ دے مثال دَ مرکوبے (سورلے) دے چه دَ هغے په شاباندے سورلی کیږی نودے ته ئیے دَ دے وجے نه ظَهْرِهَا اوئیل۔

سُوْرَةُ يٰسٓ (٣٦) مَكِّيَّةٌ (٨١) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ٨٣ رُكُوْعَاتُهَا ٥

يٰسٓ ﴿١﴾ وَالْقُرْاٰنِ الْحَكِيْمِ ﴿٢﴾ اِنَّكَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿٣﴾ عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿٤﴾ تَنْزِيْلَ الْعَزِيْزِ الرَّحِيْمِ ﴿٥﴾ لِتُنْذِرَ قَوْمًا

یاسین (۱) قسم دے په قرآن حکمتونو والا باندے (۲) چه یقیناً ته ضرور دَ رسولانو نه ئے (۳) په لارے نیغے باندے (٤) (نازل کړے دے په تا باندے) نازلول دَ زورآور ذات چه رحم کوؤنکے دے (٥) دے دپاره چه ویره ورکړے هغه قوم ته

سورة يٰسٓ

دَ دے سورة نورنومونه دادی۔سورة قلب القرآن، سورة المعمّه، سورة المدافعة، سورة القاضية، سورة العزيزة اوسورة العظيمة۔

ربط: دَ دے سورة دَ محکمیٰ سره په ډیرو وجوهو سره دے اوله وجه دا ده چه محکمیٰ سورة کښ دَ رد دَ شفاعة شرکیه دپاره عقلی دلیلونه وؤ نو په دے سورة کښ دلیل نقلی ذکر کوی ،دویمه وجه داده چه دَ هغه سورة په آخر کښ تخویف دنیوی ذکروؤنوپه دے سورة کښ دَ تخویف دنیوی یونمونه ذکرکوی، دریمه وجه داده چه په محکمیٰ سورة کښ مسئله ثابت شوه په دلیلونو سره نو په دے سورة کښ تشجیع ورکوی په دعوت باندے او دَ هغے طریقه هم ذکرکوی۔

دعویٰ دَ سورة: اثبات دَ صدق رسول دے عموماً اوپه رد دَ شفاعت شرکیه سره خصوصاً دا دعویٰ په ایت(۳)کښ ده اومقصد دَ دعوے عموماً په (٦) او دَ دعوے خصوصاً په (۷٥،٤۳،۲۳)کښ دے۔

خلاصه دَ سورة :په دے کښ درے بابونه دی اول باب تر(۳۱) پورے دے په دے کښ شهادت دَ قرآن ذکرکوی په دعویٰ باندے او مقصد دَ دعوے ذکرکړے دے او زجر اوتخویف دے په خلورو اياتونو کښ بیا بشارت او دلیل عقلی مختصر دپاره دَ اثبات دَ توحید او قیامت ذکرکوی ۔بیا دلیل نقلی تفصیلی دے۔

تفسير

[۱] ﴿يٰسٓ﴾ دا دَ مقطعاتونه دے لویه فائده په دے کښ تنبیه ده په اعجاز دَ قرآن کریم باندے او دَ بعضونه نقل دی چه دا په معنیٰ دَ یا سیّد البشر دے لیکن داچه مشهوره ده چه دانوم دَ نبی ﷺ دے نو دا په صحیح روایت سره ثابت نه ده کوم روایت چه قرطبی او ماوردی راوړے دے یے سنده او ضعیف دے۔

[۲] ﴿وَالْقُرْاٰنِ الْحَكِيْمِ﴾ واودپاره دَ قسم دے اوقرآن کلام اللّٰه دے مخلوق نه دے بلکه صفت دَ اللّٰه تعالیٰ دے نو دا قسم په مخلوق باندے نه دے ۔

[۳] دا جواب قسم اودعویٰ دَ سورة ده دَ دے وجے نه په اِنَّ او په لام دَ تاکید باندے مشتمله ده ۔

[٤] دا ذکردَ صفت دَ رسول اللّٰه ﷺ اودویم جواب قسم دے یعنی روستو دَ وصف دَ رسالت نه بیان دَ مسلك دَ رسول دے او دا دلیل دے چه طریقه او سنت دَ نبی ﷺ صراط مستقیم ده۔

[٥] دا دریم جواب قسم دے یعنی دَ قرآن حکمتونه شهادت کوی چه دا دَ اللّٰه تعالیٰ (چه عزیز اورحیم دے) کتاب دے۔

مَّآ اُنْذِرَ اٰبَآؤُهُمْ فَهُمْ غٰفِلُوْنَ ۝٦ لَقَدْ حَقَّ الْقَوْلُ عَلٰٓى اَكْثَرِهِمْ فَهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ۝٧ اِنَّا جَعَلْنَا فِيْٓ اَعْنَاقِهِمْ اَغْلٰلًا
فَهِيَ اِلَى الْاَذْقَانِ فَهُمْ مُّقْمَحُوْنَ ۝٨ وَجَعَلْنَا مِنْۢ بَيْنِ اَيْدِيْهِمْ سَدًّا وَّمِنْ خَلْفِهِمْ سَدًّا فَاَغْشَيْنٰهُمْ فَهُمْ
لَا يُبْصِرُوْنَ ۝٩ وَسَوَآءٌ عَلَيْهِمْ ءَاَنْذَرْتَهُمْ اَمْ لَمْ تُنْذِرْهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ۝١٠ اِنَّمَا تُنْذِرُ مَنِ اتَّبَعَ الذِّكْرَ وَخَشِيَ الرَّحْمٰنَ

چه ویره نه وه ورکړے شوے مشرانو دَ دوی ته نو دوی بے پرواه دی (٦) یقیناً پوره شوے دے حجت په ډیرو دَ دوی باندے نو دوی ایمان نه راوړی (٧) یقیناً اچوو مونږ دَ دوی په څټونو کښ طوقونه نو هغه به تر زنو پورے وی نو سرونه دَ دوی به پورته کړے شوی وی (٨) او جوړ وؤ به مونږ دَ دوی مخے ته دیوال او دَ دوی نه روستوته دیوال نو راګیر به کړو دوی لره نو دوی به هیڅ نه وینی (٩) او برابر دے په دوی باندے ویره ورکول ستا دوی لره او ویره نه ورکول دوی لره ایمان نه راوړی (١٠) یقیناً ویره ورکوے ته (فائده ناکه) هغه چاته چه تابعداری کوی دَ نصیحت او ویره کوی دَ رحمان نه

[٦] په دے کښ ذکر دَ مقصد دَ رسالت اوپه دے کښ اشاره ده چه دا آخری نبی په داسے وخت کښ رالیګلے شوے دے چه اهل دنیا دَ دهٔ رسالت ته (دَ وجے دَ غفلت نه)محتاج وو او داهم دَ دے پیغمبر عظمت شان دے۔

[٧] هرکله چه مقصد دَ رسالت ذکر شوچه انذار دے نو سوال راغے چه داټول خلق ولے ایمان نه راوړی نو په دے ایت کښ دَ هغے جواب کوی په ذکر دَ مانع سره۔

[٨] په دے ایت کښ درے توجیهات دی اوله توجیه عامو مفسرینو واقعه دَ ابوجهل او دَ نورو کافرانو لیکلے ده چه دَ رسول اللهﷺ دَ وهلو او دَ مانځه او دعوت نه منع کولو کوشش ئے کولو نو لاسونه ئے دَ سټونو سره اونختل ۔ دویمه توجیه دا ده چه دابه په قیامت کښ دَ دے کافرانو حال دَ عذاب وی نو دا تخویف اُخروی شو، دریمه توجیه داده چه دا تمثیل دے دَ مانع دَدوی دَ ایمان راوړلونه او دویم جواب او وجه داده دَ دوی دَ ایمان نه راوړلو یعنی اغلال په سټونو کښ کنایه ده دَ تقلید دَ مشرانو ګمراهانو نه بغیر دَ دلیل نه لکه چه پلن طوق دَ یو انسان څټ ته پروت وی نو سرئے اوچت وی اولارے ته کتلے نشی نوټکرے وهی اوکله په کنده کښ غورزیګی نو دارنګ دوی دَ مشرانو دَ تقلید شرکی په وجه سره دَ هدایت نه محرومه دی۔

[٩] په دے ایت کښ هم هغه درے توجیهات دی اوله توجیه داده چه کافرانودَ رسول اللهﷺ دَ ویشتلواراده اوکړه نواللّٰه تعالیٰ په دیوالونو کښ راګیرکړل نودا معجزانه حجت پرے قائم شولیکن بیاهم ایمان نه راوړی۔ دویمه توجیه دا ده چه دا به په جهنم کښ دَ دوی حال وی نوتخویف اخروی دے۔ دریمه توجیه داده چه داتمثیل دے اوذکرد دریم مانع دے دَ هدایت نه یعنی لکه چه دَیوانسان مخے اوروستوته دیوال وی نومخکښ اوروستو نشی تللے اوسترګے ئے هم بندے وی۔ دارنګ دَ دوی قیامت باره کښ دیوال دَشبهاتودے اودَ دنیا په باره کښ دیوال دَ شهواتودے نودَ حق نه رانده دی اودَ هدایت نه محروم دی۔

[١٠] دا څلورم مانع اوجواب دے چه دوی ته دَ عناد او دَ ضد دَ وجے نه انذار ورکول اوعدم انذار برابر دی۔

بِالْغَيْبِ ۚ فَبَشِّرْهُ بِمَغْفِرَةٍ وَّاَجْرٍ كَرِيْمٍ ﴿١١﴾ اِنَّا نَحْنُ نُحْيِ الْمَوْتٰى وَنَكْتُبُ مَا قَدَّمُوْا وَاٰثَارَهُمْ ۗ وَكُلَّ شَيْءٍ
اَحْصَيْنٰهُ فِيْٓ اِمَامٍ مُّبِيْنٍ ﴿١٢﴾ وَاضْرِبْ لَهُمْ مَّثَلًا اَصْحٰبَ الْقَرْيَةِ ۘ اِذْ جَآءَهَا الْمُرْسَلُوْنَ ﴿١٣﴾ اِذْ اَرْسَلْنَآ اِلَيْهِمُ

په حال دَ نه لیدلو کښ نو زیرے ورکړه دهٔ لره په بخنه او ثواب عزت مند (۱۱) یقیناً مونږ به ژوندی کوو مړی او لیکو مونږ هغه عملونه چه دوی مخکښ لیږلی دی او روستو کارونه دَ دوی او هر څیز راګیر کړے دے مونږ په کتاب ښکاره کښ (۱۲) او بیان کړه دوی ته عبرت ناکه واقعه دَ یو ښار والو کله چه راغله هغے ته رسولان (۱۳) کله چه اولیږل مونږ هغوی ته

[۱۱] هرکله چه معلومه شوه چه ضدیان عنادیانوته انذارفائده نه ورکوی نوسوال راغے چه دَ انذار ورکولوڅه فائده ده؟ حاصل دَجواب دا دے چه انابت والوته فائده ورکوی ﴿كَرِيْمٍ﴾ دَ دنیا په اجرت کښ ذلت محسوس کیږی او دَ آخرت اجرکښ کرامت اوعزت دے۔

[۱۲] په دے کښ وخت دَ اجرذکرکوی چه هغه حیات بعد الموت دے اودا دلیل عقلی دے دپاره دَ توحید ﴿اِنَّا نَحْنُ نُحْيِ الْمَوْتٰى﴾ معنیٰ ظاهری مراد ده دَپاره دَ اثبات دَ قیامت اودَ ضحاك اوحسن نه نقل دی چه په دے سره ایمان بعد الکفر مراد دے ﴿وَنَكْتُبُ﴾ داکتابت دَ احیا بعد الموت نه مخکښ دے دَ دے کتابت نه مرادکتابت دَکراماً کاتبین دے چه هغوی اعمال په خپلوصحیفوکښ لیکی یا دَکتابت نه مراد تقدیرکښ لیکل دی اومضارع په معنیٰ دَ ماضی ده ﴿مَاقَدَّمُوْا﴾ په اول معنیٰ سره مراد دَ دے نه هغه عملونه دی چه انسان کړے وی۔ نوآخرت ته ئے رواندے لیګلی دی اوپه دویمه معنیٰ سره ماقدموا واخرو مراد دے یعنی ټول اعمال مراد دی ﴿وَاٰثَارَهُمْ﴾ مراد دے نه قدمونه اخستل دی مسجد ته دَ عبادت دپاره یا بدعملونه دی چه انسان ئے دَ روستوخلقودپاره پریږدی او روستوخلق په هغے باندے عمل کوی تفسیر قرطبی دَ هغے دا مثالونه وئیلی دی، علم چه دَ هغے تدریس ئے کړے وی یائیے کتاب تصنیف کړے وی یا ئے وقف کړے وی۔ یامسجد، مسافرخانه، پل وغیره ئے جوړکړے وی دا نیك عملونه دی اودَ بدوعملونو مثالونه دا دی ټیکسونه چه بعض ظالمانوبادشاهانوپه مسلمانانومقررکړے وی اولارے چه په هغے کښ مسلمانانوته نقصان ورکړے وی یا هغه غزل خوانے اودَ لوبوکارونه چه په هغے سره دَ اللّٰه تعالیٰ دَ لارے نه خلق منع کیږی او دارنګ هره طریقه خائسته یعنی سنّت جاری کول یا ناکاره طریقه لکه بدعات ایجادکول اوجاری کول ﴿اِمَامٍ﴾ هرهغه څیزته وئیلے کیږی چه په هغے پسے اقتداء کیږی دَ دے وجے نه ئے تورات ته هم امام وئیلے دے په سورهٔ هود (۱۷) کښ اوهرکله چه روستو ټول کارونه دَ تقدیر(دَ لوح محفوظ) تابع دی نو دَ دے وجے نه هغے ته امام اووئیلے شو۔

[۱۳] دا متعلق دے په لتنډپورے۔ دامثال دَ انذار(تخویف دنیوی) دے او دلیل نقلی دے په توحید باندے او دارنګ په دے کښ په انذارکولو باندے تشجیع ده سره دَ ذکر دَ طریقے دَ انذار(دعوت)نه۔

اثْنَيْنِ فَكَذَّبُوْهُمَا فَعَزَّزْنَا بِثَالِثٍ فَقَالُوْٓا اِنَّآ اِلَيْكُمْ مُّرْسَلُوْنَ ﴿١٤﴾ قَالُوْا مَآ اَنْتُمْ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا ۙ وَمَآ اَنْزَلَ
الرَّحْمٰنُ مِنْ شَيْءٍ ۙ اِنْ اَنْتُمْ اِلَّا تَكْذِبُوْنَ ﴿١٥﴾ قَالُوْا رَبُّنَا يَعْلَمُ اِنَّآ اِلَيْكُمْ لَمُرْسَلُوْنَ ﴿١٦﴾ وَمَا عَلَيْنَآ اِلَّا الْبَلٰغُ
الْمُبِيْنُ ﴿١٧﴾ قَالُوْٓا اِنَّا تَطَيَّرْنَا بِكُمْ ۚ لَئِنْ لَّمْ تَنْتَهُوْا لَنَرْجُمَنَّكُمْ وَلَيَمَسَّنَّكُمْ مِّنَّا عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿١٨﴾ قَالُوْا
طَآئِرُكُمْ مَّعَكُمْ ۭ اَئِنْ ذُكِّرْتُمْ ۭ بَلْ اَنْتُمْ قَوْمٌ مُّسْرِفُوْنَ ﴿١٩﴾ وَجَآءَ مِنْ اَقْصَا الْمَدِيْنَةِ رَجُلٌ يَّسْعٰى قَالَ يٰقَوْمِ اتَّبِعُوا
الْمُرْسَلِيْنَ ﴿٢٠﴾ اتَّبِعُوْا مَنْ لَّا يَسْـَٔلُكُمْ اَجْرًا وَّهُمْ مُّهْتَدُوْنَ ﴿٢١﴾

دوه کسان نو هغوی ورته دروغژن وئیل نو کلك کړه مونږ په دریم سره نو دوی اُوئیل یقیناً مونږ تاسو ته رالیږلے شوی یو (١٤) دوی اُوئیل نه ئیے تاسو مګر بندګان ئیے زمونږ پشان اونه دے نازل کړے رحمان هیڅ څیز نه ئیے تاسو مګر دروغ وائیے (١٥) دوی اُوئیل رب زمونږ پوهه دے چه یقیناً مونږ تاسوته خامخا رالیږلے شوی یو (١٦) اونیشته په مونږ باندے مګر رَسُول بنکاره دی (١٧) دوی اُوئیل یقیناً مونږ سپیره حاله شو ستاسو دَ وجے نه که چرے منع نه شوئے نو سنګسار به کړو تاسو او خامخا اوبه رسیږی تاسو ته زمونږ دَ طرف نه عذاب درد ناك (١٨) دوی اُوئیل سپیره والے ستاسو ستاسو دَ وجے نه دے ایا چه تاسو ته نصیحت درکیږی نو انکار کوئے بلکه تاسو قوم ئیے دَحدنه تیریدونکی (١٩) او راغے دَ لرے طرف دَ ښار نه یو نارینه منډے وهلے اوئیل ئیے اے قومه زما تابعداری کوئے دَ پیغمبرانو (٢٠) تابعداری دَ هغه چا چه نه غواړی ستاسو نه هیڅ بدله اوهم دوی هدایت والا دی (٢١)

[١٤] دا تفصیل بعدا لاجمال دے تیروشوؤ زمانو کښ یو یو کلی ته به اکثر ډیر رسولان په یوځائے رالیږلے کیدل ـ اوپه دے کښ تسلّی ده رسول اللّٰهﷺ ته چه ستانه مخکښ هم دَ رسولانو تکذیب کړے شوے دے۔

[١٥] دا تفصیل دَ تکذیب دے په درے طریقو سره دَدے نه معلومه شوه چه دَ بشریت دَ رسول نه انکار کول دَ مشرکانو زړه جاهلانه عقیده ده ـ

[١٦] ﴿رَبُّنَا يَعْلَمُ﴾ دا جمله دَ قسم په ځائے قائم ده دَ دے وجے نه دَ یعلم مفعول ئے نه دے ذکر کړے۔

[١٧] یعنی هرکله چه مونږ رسولان یونو دَ رسول ذمه واری صرف تبلیغ دے که تاسو منل کوئے یانه کوئے۔

[١٨] دا دَ هغوی دَ تکذیب بله طریقه ده یعنی دوی وئیل چه ستاسو تبلیغ باطل دے ځکه چه دَ دے دَ وجے نه په مونږ باندے بدحالی راغله بیماری، قحط، مالی ګرانی دَ نرخونو وغیره۔

[١٩] ﴿طَآئِرُكُمْ﴾ دَ انسان مقرر برخے ته وئیلے کیږی چه دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه راځی مراد ترینه دحالی ده ﴿مَعَكُمْ﴾ تاسو پورے لازم ده ستاسو دَ ناکاره عملونو دَ وجے نه اوپه دے ایاتونو کښ دے قوم دَ خپلو عملونو سزا نه منله په دے وجے سره دلته معکم او وئیلے شو ﴿بَلْ اَنْتُمْ﴾ په دے کښ تصریح ده چه سبب دَ بدحالئے ستاسو اسراف یعنی شرك او کفراودَ دین نه خلق منع کول دی۔

فائده: دَ دے ایاتونونه معلومه شوه چه تَطَيُّر یعنی بدحالی بیمارئے وغیره په هرانسان دَ هغه دَعمل دَ وجے نه راځی دَهغے نسبت مکان یازمانے ته یا بل سړی ته کول جائزنه دی۔دَ دے وجے نه رسول اللّٰهﷺ فرمائیلی دی لاطیرة فی الاسلام یعنی اسلامی اصول دا دی چه دَخپلے بدحالئے سبب به دَبل چاعمل یا صفت نه ګڼلے بلکه خپل عمل به

وَمَا لِيَ لَآ اَعْبُدُ الَّذِيْ فَطَرَنِيْ وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿٢٢﴾ ءَاَتَّخِذُ مِنْ دُوْنِهٖٓ اٰلِهَةً اِنْ يُّرِدْنِ الرَّحْمٰنُ بِضُرٍّ لَّا تُغْنِ عَنِّيْ شَفَاعَتُهُمْ شَيْـًٔا وَّلَا يُنْقِذُوْنِ ﴿٢٣﴾ اِنِّيْٓ اِذًا لَّفِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿٢٤﴾ اِنِّيْٓ اٰمَنْتُ بِرَبِّكُمْ فَاسْمَعُوْنِ ﴿٢٥﴾

او څه دليل دے زما چه بندګی نه خاص کوؤم دَهغه ذات چه مُحه ئے دَ اول سرنه پيدا کړے يم او خاص هغه ته به او ګرځولے شئے (٢٢) ايا اونيسم مُحه سيوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه نور معبودان که چرے اوغواړی ما لره رحمان ذات مُحه ضرر نو نه شی لرے کولے زمانه سفارش دَ دوی هيڅ ضرر او نه دوی ما لره خلاصولے شی (٢٣) يقيناً مُحه به داسے وخت کښ خامخا په ګمراهئ ښکاره کښ يم (٢٤) يقيناً ما ايمان راوړے دے ستاسو په رب باندے نو واؤرئے زما خبرے(٢٥)

دَهغے سبب ګنړئے۔

[٢٠] دارنګ په سورة قصص (٢٠) کښ تيرشويدی ﴿اِتَّبِعُوا الْمُرْسَلِيْنَ﴾ په امتی باندے لازم دی چه دَ نبی تابعدارئے ته خلق رااوغواړی۔

[٢١] دا ذکر دَ دوؤ علتونودے دَپاره دَ لزوم دَاتباع دَ رسولانواول دَعوض طمع نه کول دَانسانانونه اودا دليل دَ اخلاص دے اوداسے انسان حق هم نه پټوی دويم اهتداء يعنی په دليل دَوحی پسے تلل اودَوحی موافق عمل کول اودا دليل دَحقانيت دے۔

[٢٢] په دے کښ دعوت دے توحيدته په احسن طريقے سره دَ دے وجے نه چه دَخبرے سردَځان دَ طرف نه شروع کوی دَپاره دَ دے چه مخاطب بد اونه ګڼړی اودَ خبرے آخرسرمخاطب ته اړوی۔اودا جواب دَسوال دے يعنی قوم ورته په زورنه اُوئيل چه ته هم دَدوی سره ملګرے ئے نوهغه جواب اوکړوچه هاں دَ دوی ملګرتياپريخودلودَپاره زماځه عذراودليل نيشته او ﴿فَطَرَنِيْ﴾ کښ دليل دَ توحيد فی العبادة دے۔ ﴿وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ﴾ کښ عقيده دَبعث بعد الموت ده۔

[٢٣] مخکښ ايت کښ اثبات دَ توحيد وؤ اوپه دے ايت کښ رد دَ شرك دے اوجواب دے دَ دويم سوال دَ مشرکانو چه دَ اللّٰه تعالیٰ دَ معبوديت سره دَ نوروشرکت هم جائزدے؟ حاصل جواب دا دے دَ اللّٰه تعالیٰ نه سيوا په بل چاکښ وصف دَ معبوديت نشی کيدے او هغه دوه څيزونه دی اول داچه دَ اللّٰه تعالیٰ ارادے لره په سفارش کولو سره اوګرځوی او دے قسم ته شفاعت قهريه وئيلے کيری چه عقيده اوساتی چه څوك دَ اللّٰه تعالیٰ په نيز داسے محوريز او عزت مندوی چه دَ اللّٰه تعالیٰ ارادے لره بدله کړی يا داسے دوست او محبوب مطلق وی چه اللّٰه تعالیٰ دَ هغهٔ دَ سفارش منلونه مجبوره شی او خپله ارادے لره پريږدی دا يوهم نشی کيدے دويم څيز دا دے چه په خپل طاقت او زور سره دَ اللّٰه تعالیٰ اراده بدله کړی او بو انسان لره دَ اللّٰه تعالیٰ دَ ارادے په خلاف دَ څه مصيبت نه بچاؤ ورکړی۔

[٢٤] دا دَ دريم سوال جواب دے هغوی اُوئيل چه په دے عقيدے لرلو سره هيڅ نقصان نه راځی جواب ئے ورکړو چه دا ښکاره ګمراهی ده۔

[٢٥] دا دَ څلورم سوال جواب دے چه ته (موږ مخالفت کښ(رد دَ شرك کښ) ولے دومره کلك ئے جواب ئے اوکړوچه دا دَ مؤمن دَ ايمان تقاضاده چه په شرك باندے صريح رد کوی۔

قِيْلَ ادْخُلِ الْجَنَّةَ ۚ قَالَ يٰلَيْتَ قَوْمِيْ يَعْلَمُوْنَ ﴿۲۶﴾ بِمَا غَفَرَ لِيْ رَبِّيْ وَجَعَلَنِيْ مِنَ الْمُكْرَمِيْنَ ﴿۲۷﴾ وَمَآ اَنْزَلْنَا
عَلٰى قَوْمِهٖ مِنْۢ بَعْدِهٖ مِنْ جُنْدٍ مِّنَ السَّمَآءِ وَمَا كُنَّا مُنْزِلِيْنَ ﴿۲۸﴾ اِنْ كَانَتْ اِلَّا صَيْحَةً وَّاحِدَةً فَاِذَا هُمْ
خٰمِدُوْنَ ﴿۲۹﴾ يٰحَسْرَةً عَلَى الْعِبَادِ ۚ مَا يَاْتِيْهِمْ مِّنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۳۰﴾ اَلَمْ يَرَوْا كَمْ اَهْلَكْنَا

وقف لازم

اُوئیلے شو (پس دَمرګ دَهغه نه روح ته) داخل شه جنت ته اُوئیل هغه هائے افسوس دے چه قوم زما پوهه لرلے (۲۶) په هغه خبره باندے چه بخنه پرے اوکړه ماته رب زما او ځه ئے اوګرزولم دَکرامت والا نه (۲۷) او نه دے رالیږلے مونږ په قوم دَ هغه باندے روستو دَ مرګ دَ هغه نه هیڅ لښکر دَ اسمان نه او نه یو مونږ نازلوؤنکی (په داسے وخت کښ)(۲۸) نه وؤ هلاکت دَ دوی مګر یو ه چغه وه نو دغه وخت دوی مړه او غورځیدل(۲۹) هائے افسوس دے په داسے بندګانو باندے چه نه راځی دوی ته هیڅ رسول مګر دوی هغه پورے ټوقے کوی (۳۰) ایا دوی نه ګوری چه څومره هلاك کړی دی مونږ

[۲۶] اکثر مفسرینو لیکلی دی چه مشرکان په دے سړی باندے راجمع شول ټوپونه ئے ورباندے اُوهل دَ هغه کولمے ئے بهر را اویستلے۔ په کانړو باندے اویشتلو۔کوهی ته ئے اوغورځولو(دے خلقوته اصحاب الرس وئیلے کیږی) اوپه مرئیے کښ ورلره سورے اوکړو او دَ هغهٔ سار په چوك کښ ئیے آویزان کړو په اره باندے دوه ټکړے کړودا مختلف اقوال دی مطلب ئیے یودے چه شهید ئیے کړو۔ اوهرکله چه صحیح حدیث سره ثابت دی چه روح دَ شهید په جنّت کښ داخلیږی دَ دے وجے نه اُوئیلے شو ﴿قِيْلَ ادْخُلِ الْجَنَّةَ﴾ بدن ئیے په زمکه مړ پروت وؤ لیکن روح ته ئیے خطاب اوشو ﴿قَالَ يٰلَيْتَ﴾ په جنت کښ ئیے دَ قوم دَ ایمان ارمان اوکړو دا دَ دهٔ نهایت اخلاص وؤ۔

[۲۷] ﴿بِمَا غَفَرَ لِيْ﴾ مراد دَ دے نه مسئله دَ توحید ده چه سبب دَ بخشش دے اوسبب دَ کرامتونو دے یعنی افسوس دے چه قوم زما په دغه مسئله باندے عِلم او عقیده لرلے ﴿الْمُكْرَمِيْنَ﴾ معلومه شوه چه لوے کرامت دَ توحید په وجه باندے شهادت دے او جنت ته داخلیدل دی۔

[۲۸] په دے ایت کښ دَ هغه قوم هلاکت په سپك والی سره ذکرکوی یعنی اللّٰه تعالیٰ فرمائی چه دَ دوی په هلاکولو کښ څه لښکرو رالیږلوته محتاج نه ووم دوی دَ اللّٰه تعالیٰ دَقدرت په مخکښ دَ یو وزر حیثیت هم نه لری ﴿وَمَا كُنَّا مُنْزِلِيْنَ﴾ یعنی دا زمونږعادت نه دے چه دَ یوقوم دَ هلاکولودَپاره لښکرے رالیږو۔ که څوك سوال اوکړی چه په غزوه بدر، احزاب، حنین کښ ئیے ملائك رالیږلی دی او هغوی ته ئیے جنود وئیلی دی؟ جواب دا دے چه هلاکول دوه قسمه دی یو دَ ټول قوم په یوځل تباه کول نو په دے ایت کښ مراد دا دے دَ دے دپاره اللّٰه تعالیٰ لښکر نه رالیږی، دویم قسم هلاکول دَ لږوکسانو دی په حالت دَ جنګ کښ په هغے حالت کښ دَ نصرت په حیثیت دَ ملائکو لښکرے رالیږی او اللّٰه تعالیٰ حکمتونو والادے۔

[۲۹] په دے ایت کښ عذاب دَ هغهٔ قوم ذکردے مفسرینولیکلی دی چه جبرئیل علیه السلام راغے او دَ دغه قوم دَ سار دَ دروازے درشلے اونیولے او هیبتناکه چغه ئیے اُوهله په هغے سره هغوی مړه شول ﴿خٰمِدُوْنَ﴾ کښ تشبیه ده دَ اورمړ کیدلوسره یعنی دَ دوی غُصّه اوتکبروغیره داسے مړه کړے شوه لکه اور چه مړ شی او ایرے جوړے شی۔

قَبْلَهُمْ مِّنَ الْقُرُوْنِ اَنَّهُمْ اِلَيْهِمْ لَا يَرْجِعُوْنَ ﴿٣١﴾ وَاِنْ كُلٌّ لَّمَّا جَمِيْعٌ لَّدَيْنَا مُحْضَرُوْنَ ﴿٣٢﴾ وَاٰيَةٌ لَّهُمُ الْاَرْضُ

دَ دوی نه مخکښ دَ پیړو نه چه هغوی به دوی ته واپس (دنیا ته) نه راځی (۳۱) او نیشته هیڅ یو مګر ټول به زمونږ مخے ته حاضر کړے شی (۳۲) او لوے دلیل دَ توحید دَ دوی دپاره زمکه

فائده: اکثر مفسرینو دَ دے واقعے په باره کښ لیکلی دی چه دغه رسولان دَعیسیٰ علیه السلام دَ طرف نه قاصدان وو۔ او انطاکیه ښارته اولیږلے شول او بیا ورسره یوشپونکے (رجل مؤمن) ملګرے شو او هغهٔ شهید کړے شونو بیا په هغه ښار باندے عذاب دَ چغے راغے او دَ دے په تائید کښ یو حدیث هم ذکر کوی چه هغه زمخشری کشاف کښ مرفوع نقل کړے دے ۔ لیکن مفسر ابن کثیر په دے باندے رد کړے دے په دیرو وجوهوسره اوله وجه دا ده چه، اذ ارسلنا الیهم، فعززنابثالثٍ، انا الیکم مرسلون، اوورپسے جملے ښکاره دلالت کوی چه دوی دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه رالیږلے شویوو۔ دویمه داچه هغوی به دوی باندے په بشریت سره اعتراض کړے وؤ وئیلی وو ان انتم الابشرمثلنا، دَ بنده په قاصد باندے دَ بشریت اعتراض نشی کیدلے۔ دریمه وجه داچه تاریخ لیکلی دی چه انطاکیه اول ښاردے دَ هغه ځلورو ښارونونه چه په عیسیٰ علیه السلام ئے ایمان راوړے وؤقدس، انطاکیه، اسکندریه، رومیه نوهرکله چه ایمان ئے راوړے وؤنوبیاولے هلاك کړے شول اوځلورمه وجه دا ده چه دَ سورة قصص ایت (٤٣) په تفسیرکښ دَاکثرسلفونه نقل کړے شوے دے چه روستودَ انزال دَ تورات نه په یوامت باندے استیصالی عذاب نه دے راغلے او په دے واقعه کښ خو تصریح ده چه هغه قریة (کلے) ټوله هلاکه شوه۔ اوهرچه حدیث دَ طبرانی اودَ زمخشری دے نوهغه حدیث منکردے دَ هغے په سندکښ حسین بن الحسین الاشقردے او هغهٔ شیعی اوپریخودلے شوے راوی دے نومعلومه شوه چه دا واقعه دَ موسیٰ علیه السلام نه پرواندے دَ یوقوم واقعه ده۔ اوکیدے شی چه دَ هغهٔ قو م دَکلی نوم هم انطاکیه وؤ۔

[۳۰]﴿یٰحَسْرَةً عَلَى الْعِبَادِ﴾ دلته سوال دا دے چه حسرة دَاللّٰه تعالیٰ دَشان سره مناسب نه دے ځکه چه حسرت پښیمانه کیدل اوسترے والے ښکاره کول دی په یوغیرمناسب کارکولوباندے نودَ دے دیرجوابونه دی اول جواب داچه حسرة په معنیٰ دَویل اودَ هلاکت دے دا دَ ابن عباس رضی اللّٰه عنهمانه یو روایت دے دویم جواب دا اخبار دے دَ حسرة دَ بندګانونه په خپلوځانونو باندے یعنی په داسے وخت کښ بندګان په خپل انکار او تکذیب باندے افسوسونه کوی۔

[۳۱] دَ دے ایت نه دویم باب دے تر(۷۱) پورے په دے کښ اول زجردے بیالس عقلی دلیلونه دی تر(٤٤) پورے اوپه دے کښ درے قسمه زجرونه دی (۱) زجربالاعراض (۲) زجربالاستهزاء (۳) زجربانکارالحشر۔ بیا تخویف اخروی دے دَ (٥١) نه تر (٦٨) پورے اوپه مینځ کښ بشارت دے او اخرکښ دَ یو شبهے جواب دے چه تعلق لری دَ ابتداء دَ سورة سره، په دے (۳۱) کښ زجردے سرهٔ دَتخویف دنیوی نه اودا ایت ښکاره دلیل دے چه کوم خلق مړهٔ شوی دی هغوی دنیا ته واپس نشی راتللے لکه چه سورة مؤمنون (۱۰۰) او سورة انبیاء (۹۵) کښ تیرشویدی۔

[۳۲] دا تخویف اُخروی دے۔

الْمَيْتَةُ ۚ اَحْيَيْنٰهَا وَاَخْرَجْنَا مِنْهَا حَبًّا فَمِنْهُ يَاْكُلُوْنَ ﴿٣٣﴾ وَجَعَلْنَا فِيْهَا جَنّٰتٍ مِّنْ نَّخِيْلٍ وَّاَعْنَابٍ
وَّفَجَّرْنَا فِيْهَا مِنَ الْعُيُوْنِ ﴿٣٤﴾ لِيَاْكُلُوْا مِنْ ثَمَرِهٖ ۙ وَمَا عَمِلَتْهُ اَيْدِيْهِمْ ؕ اَفَلَا يَشْكُرُوْنَ ﴿٣٥﴾ سُبْحٰنَ الَّذِيْ خَلَقَ
الْاَزْوَاجَ كُلَّهَا مِمَّا تُنْۢبِتُ الْاَرْضُ وَمِنْ اَنْفُسِهِمْ وَمِمَّا لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٣٦﴾ وَاٰيَةٌ لَّهُمُ الَّيْلُ ۚ نَسْلَخُ مِنْهُ النَّهَارَ
فَاِذَا هُمْ مُّظْلِمُوْنَ ﴿٣٧﴾ وَالشَّمْسُ تَجْرِيْ لِمُسْتَقَرٍّ لَّهَا ؕ ذٰلِكَ تَقْدِيْرُ الْعَزِيْزِ الْعَلِيْمِ ﴿٣٨﴾ وَالْقَمَرَ قَدَّرْنٰهُ مَنَازِلَ

وچه ده چه تازه کړومونږ هغه او را اوباسو دَ هغے نه دانے نو بعض دَ هغے نه دوی خوری (۳۳) اوپیدا کړی دی مونږ په دے کښ باغونه دَ کجورو او انګورو نه او بیَولے دی مونږ په هغے کښ دَ چینو نه (۳٤) دپاره دَ دے چه اوخوری څه میوے دَ هغے نه او نه دی جوړ کړی دے لره لاسونو دَ دوی نو ایا شکر نه کوی دوی (۳۵) پاکی ده دَهغے ذات چه پیدا کړیدی قسمونه ټول دَ هغے نه چه راټوکوی ئے زمکه او دَ نفسونو دَ دوی نه او دَ هغه څیزونونه چه دوی نه پوهیږی په هغے باندے (۳٦) او لوے دلیل دَ توحید دَ دوی دپاره شپه ده راکاږو دَ هغے نه ورځ نو دغه وخت دوی په تیَرو کښ وی (۳۷) او نمر روان دے وخت مقرر دَ هغے ته دا (حرکت دَ نمر) اندازه ده دَ زورآور عالم ذات (۳۸) او سپوږمئے لره مقرر کړیدی مونږ منزلونه

[۳۳] دا ایت اودَ دے نه روستوتر(٤٤) پورے دلیلونه دی دپاره دَ رد دَ شفاعةِ شرکیه اودپاره دَ اثبات دَحشرهم دی۔ اوپه دے دلیلونو کښ نعمتونه ذکر کوی۔

[۳٤] په دے ایت کښ هغه نعمتونه ذکر کوی چه دَ میوؤ سره تعلق لری۔ اوپه مخکښ ایت کښ اوبه دَ باران ذکر کړے وے اوپه دے ایت کښ اوبه دَچینوذکر کړی دی اودا احسن ترتیب دے ﴿نَخِيْلٍ وَّاَعْنَابٍ﴾ دا دوه قسمونه په عربو کښ ډیروو ﴿وَفَجَّرْنَا﴾ په مخ دَ زمکه باندے بعضے اوبه او دَ زمکے په باطنی رګونو کښ اوبه چلول دے دواړو ته دا لفظ شامل دے۔

[۳۵] ﴿وَمَا عَمِلَتْهُ اَيْدِيْهِمْ﴾ مرادترینه هغه رس جوس اومشروبات دی کوم چه دَ میوؤنه جوړیږی اوډوډئے اوتیل وغیره چه دَ دانونه راؤباسی یا رد دے په مشرکینو باندے یعنی دامیوے خوانسانانو او الهو باطلو دَ دوی نه دی جوړے کړی۔

[۳٦] دا بل دلیل عقلی دے سرهٔ دَ دعوے دَتوحید نه په لفظ دَسبحان سره په تیرشوی اياتونو کښ صرف پیدائش دَ زمکے دَ اشیاؤ ئے ذکر کړے دے اوپه دے کښ دَ هغے ازدواج اوانواع ذکر کوی ﴿الْاَزْوَاجَ﴾ مراد ترینه اختلاف دَ رنګونوشکلونواو خوندونودے اودے اختلاف ته ازدواج وئیلے کیږی یا مراد دَ دے نه نراومادہ دی ځکه چه علم النباتات کښ ثابت کړے شویده چه په ټولوبوټوکښ نراومادہ شته او ایت دَسورهٔ ذاریات(٤۹) هم په دے باندے دلیل دے﴿وَمِمَّا لَا يَعْلَمُوْنَ﴾په اوچه اودریابونو او زمکه او اسمانونو کښ داسے مخلوق شته چه دَ انسانانوپه عِلم کښ نیشته بلکه دَ ملائکوپه علم کښ هم نیشته۔

[۳۷] دابل دلیل عقلی دے تیرشوی دلیلونو کښ نعمتونه مکانی اوسفلی وو۔اوپه دے کښ نعمتونه زمانی وسطی ذکر کوی۔

حَتّٰى عَادَ كَالْعُرْجُوْنِ الْقَدِيْمِ ﴿٣٩﴾ لَا الشَّمْسُ يَنْۢبَغِيْ لَهَآ اَنْ تُدْرِكَ الْقَمَرَ وَلَا الَّيْلُ سَابِقُ النَّهَارِ ؕ وَكُلٌّ
فِيْ فَلَكٍ يَّسْبَحُوْنَ ﴿٤٠﴾ وَاٰيَةٌ لَّهُمْ اَنَّا حَمَلْنَا ذُرِّيَّتَهُمْ فِي الْفُلْكِ الْمَشْحُوْنِ ﴿٤١﴾ وَخَلَقْنَا لَهُمْ مِّنْ مِّثْلِهٖ مَا
يَرْكَبُوْنَ ﴿٤٢﴾ وَاِنْ نَّشَاْ نُغْرِقْهُمْ فَلَا صَرِيْخَ لَهُمْ وَلَا هُمْ يُنْقَذُوْنَ ﴿٤٣﴾ اِلَّا رَحْمَةً مِّنَّا وَمَتَاعًا اِلٰى حِيْنٍ ﴿٤٤﴾

تردے چه واپس اوګرځی پشان دَ ځانګې دَ کجورے زړے (۳۹) نه دے نمر چه اسان شی هغه لره چه لاندے کړی سپوږمئ اونه شپه مخکښ کیدونکے ده دَ ورځ نه او ټول په ځائیے دَګرځیدلو کښ لامبو وهی (٤٠) او لوے دلیل دَ توحید دپاره دَ دوی دا دے چه اوچتوؤ مونږ نسل دَ دوی په کشتئ ډکه کښ (٤١) او پیدا کړیدی مونږ دَ دوی دپاره دَ هغے پشان هغه ځیزونه چه دوی سورلی کوی په هغے باندے (٤٢) او که چرے او غواړو مونږ نو غرق به کړو دوی لره نونه به وی فریاد رس دوی لره او نه به دوی خلاص کړے شی (٤٣) مګر دَ رحمت دَ وجے نه او مزے ورکول تر یو وخت پورے (٤٤)

[۳۸] دابل دلیل عقلی دے اودا ذکردَ سبب ظاهری دے روستودَ مسبب نه یعنی سبب ظاهری دَ شپے اودَ ورځے ګردش دَ نمراوسپوږمئ دے ﴿لِمُسْتَقَرٍّ لَّهَا﴾ مراد دَ دے نه تحت العرش دے یاوخت دَ راښکاره کیدلودَ نمردے دَمغرب نه چه هغه قریب دَ فناء دَ دنیا دے اوپه دے دواړو باندے حدیث صحیح دلیل دے۔

تنبیه: سوال، حدیث دلالت کوی چه دا شمس سجده کوی لاندے دَعرش نه بیا اذن طلب کوی دَ اللّٰه تعالیٰ نه نواذن ورته کیدے شی اوحال داچه حساً اوعقلاً معلومیږی چه دا شمس په هیڅ ساعت کښ حرکت نه پریږدی بلکه هروخت روان دے اګرچه دَیوعلاقے نه غائب شی لیکن په بله علاقه کښ غائب نه وی نودَ دے حدیث څه مراد دے؟ جواب دا دے چه سجده دَ شمس دَحرکت دَ هغهٔ سره منافات نه لری په حال دَ حرکت کولوکښ هم تابع دَحکم دَ اللّٰه تعالیٰ دے۔ اودَ اذن طلب کولونه مراد دا دے چه په هرلمحه کښ په اذن دَ اللّٰه تعالیٰ سره روان وی۔

[۳۹] دابل دلیل دے ﴿مَنَازِلَ﴾ هره شپه چه سپوږمئ په جدا جدا ځائے کښ ښکاره کیږی نوهغے نه منازل وئیلے کیږی او هغه اته ویشت دی اوکه میاشت دَ دیرشووی نودوه شپے سپوږمئ پټه وی اوکه دَیوکم دیرشووی نویوه شپه پټه وی ﴿حَتّٰى عَادَ﴾ یعنی دَ اولے شپے نه دَ دے شروع اوشی نوپه څواراسمه شپه باندے کامله شی نوبیا په نقصان کښ شروع شی نوپه آخرکښ پشان دَ اول حال اوګرځی۔ ﴿كَالْعُرْجُوْنِ الْقَدِيْمِ﴾ ځانګه دَکجورے چه زړه شی او اوچه شی نونرئے اوکړه او زیړه شی نودا رنګ سپوږمئ هم اوګرځی۔

[٤٠] دابل دلیل دے مراد دا دے چه دَ شپے او ورځے اودَامر، سپوږمئ نظام نه بدلیږی او ﴿فَلَكٍ﴾ نه مراد (مدار) ځائے دَ ګرځیدلودَ دوی دے او هغه دَ اسمانونونه خکته دے اوکوم ایاتونو کښ چه فی السماء راغلے دے نو مراد دَ هغے نه دا دے چه دا نمر، سپوږمئ دَ اسمان په طرف کښ دی او داسے په سورهٔ انبیاء (۳۳) کښ هم ټیر شویدی۔

[٤٢،٤١] دابل دلیل عقلی دے اونعمت دَ دریابونوذکرکوی روستو دَ اوچے نه ﴿ذُرِّيَّتَهُمْ﴾ تمام نوع انسانی ته وئیلے کیږی که مشران وی اوکه اولاد وی مذکروی اوکه مؤنث وی۔ اومراد دَ دے نه نوح علیه السلام

وَاِذَا قِيْلَ لَهُمُ اتَّقُوْا مَا بَيْنَ اَيْدِيْكُمْ وَمَا خَلْفَكُمْ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴿٤٥﴾ وَمَا تَاْتِيْهِمْ مِّنْ اٰيَةٍ مِّنْ اٰيٰتِ
رَبِّهِمْ اِلَّا كَانُوْا عَنْهَا مُعْرِضِيْنَ ﴿٤٦﴾ وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ اَنْفِقُوْا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ ۙ قَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا
لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنُطْعِمُ مَنْ لَّوْ يَشَآءُ اللّٰهُ اَطْعَمَهٗٓ ۖ اِنْ اَنْتُمْ اِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿٤٧﴾ وَيَقُوْلُوْنَ مَتٰى هٰذَا

او کله چه اُوئیلے شی دوی ته ځان بچ کړئے دَ هغه عذاب نه چه مخکښ ستاسو دے او هغه چه روستو ستاسو دے دپاره دَ دے چه په تاسو باندے رحم اوکړیشی (٤٥) (نو دوی مخ واړوی) او نه راځی دوی ته هیڅ نښه دَ نښو دَ رب دَ دوی نه مګر دوی دَ هغے نه مخ ګرځونکی دی (٤٦) او کله چه اُوئیلے شی دوی ته خرچ کوئے دَ هغے نه چه درکړیدی تاسو ته اللّٰه تعالیٰ وائي کافران په باره دَ مؤمنانو کښ ایاخوراك ورکړو مونږ هغه چاته که غوښتلے اللّٰه تعالیٰ نو خوراك به ئے ورته ورکړے وے نه ئے تاسو مګر په ګمراهیۍ ښکاره کښ (٤٧) او دوی وائي چه کله به وی دا

اودَ هغه ځامن دی چه په کشتئی کښ بچ کړے شوی وودَ طوفان نه اودَ ﴿مِثْلِهٖ﴾ نه مراد کشتئ اولانجونه وغیره دی دَپاره دَ روستوخلقویا مراد دَ ذریة نه مطلق مشران دی۔ اودَ فلك مشحون نه مراد مطلق کشتئ دی او دَ مثله نه مراد دَ سورلئے اسباب دی که په اوچه کښ وی اوکه په لونده کښ وی۔

[٤٤،٤٣] مقصد په دے کښ رد دے په شفاعت شرکیه باندے ﴿صَرِيْخَ﴾ په معنیٰ دَ فریاد رس اودَ مغیث اوغوث دے۔

[٤٦،٤٥] دا زجردے په اعراض کولودَ دوی دَعمل دَ تقویٰ اودَ ایاتونه ﴿مَابَيْنَ اَيْدِيْكُمْ وَمَاخَلْفَكُمْ﴾ دَ اول نه مراد عذاب دَ دنیا دے پشان دَ عذاب دَ تیرشوی قومونومکذّبینواو دَ دویم نه مراد عذاب دَ آخرت دے دویم قول دَ دے برعکس دے۔

[٤٧] دا دویم زجردے په انکاردَ دوی دَ امردَ اللّٰه تعالیٰ نه په باطل عذر سره ﴿اَنْفِقُوْا﴾ مراد دَ دے نه انفاق شرعی دے یعنی دَ اللّٰه تعالیٰ په نوم سره په مسکینانوباندے خرچ کوئے دَ غیراللّٰه په نوم په منجورانودَ بتانو اودَ قبرونو باندے خرچ مه کوئے ځکه چه هغه انفاق نه دے بلکه اسراف دے اوعام مسکینان په مکه معظمه کښ په هغه وخت کښ مؤمنان وو نو معلومه شوه چه دا امر دے په توحید سره په عبادت مالیه کښ صرف په صدقه ورکولوسره مشرك مخاطب نه شی کیدلے ﴿اَنُطْعِمُ مَنْ لَّوْ يَشَآءُ اللّٰهُ اَطْعَمَهٗٓ﴾ په دے قول کښ درے احتمالونه دی اول دا چه استهزاء ده یعنی دوی دَ مؤمنانونه اوریدل چه اللّٰه تعالیٰ رازق دے او دارنګ اوریدل ئے چه مؤمنان هرڅه دَ اللّٰه تعالیٰ په اراده پورے معلق کوی نو دوی اُوئیل چه ستاسو دَ قول مطابق چه اللّٰه تعالیٰ دَ دوی دَ فقیرئے اراده کړے ده اوهغه ورله روزی نه ورکوی نومونږ ورله څه رنګ ورکړو۔ دویم احتمال، ابن عطیه﷫ وئیلی دی چه دوی اقرار کولو دَ موافقت دَ اللّٰه تعالیٰ سره چه اللّٰه تعالیٰ چاله روزی نه ورکوی نومونږ هم نه ورکوو۔ دریم احتمال قرطبی وغیره لیکلے دے چه دا قول دَ دوی فی نفسه صحیح دے لیکن حجت نیول په دے سره غلط کار دے او دَ قبیلے (کلمة حق ارید بها الباطل) دَ دوی مقصد صرف بُخل او شومتیا کول وو دَ اللّٰه تعالیٰ په مشیت باندے رضا ښکاره کول دَ دوی مقصد نه دے ﴿اِنْ اَنْتُمْ اِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ﴾ دا قول دَکافرانودے مؤمنانوته یعنی تاسودَاللّٰه تعالیٰ دَارادے

الْوَعْدُ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۴۸﴾ مَا يَنْظُرُوْنَ اِلَّا صَيْحَةً وَّاحِدَةً تَاْخُذُهُمْ وَهُمْ يَخِصِّمُوْنَ ﴿۴۹﴾ فَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ
تَوْصِيَةً وَّلَآ اِلٰٓى اَهْلِهِمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿۵۰﴾ وَنُفِخَ فِي الصُّوْرِ فَاِذَا هُمْ مِّنَ الْاَجْدَاثِ اِلٰى رَبِّهِمْ يَنْسِلُوْنَ ﴿۵۱﴾
قَالُوْا يٰوَيْلَنَا مَنْۢ بَعَثَنَا مِنْ مَّرْقَدِنَا ۜ هٰذَا مَا وَعَدَ الرَّحْمٰنُ وَصَدَقَ الْمُرْسَلُوْنَ ﴿۵۲﴾ اِنْ كَانَتْ اِلَّا
صَيْحَةً وَّاحِدَةً فَاِذَا هُمْ جَمِيْعٌ لَّدَيْنَا مُحْضَرُوْنَ ﴿۵۳﴾ فَالْيَوْمَ لَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْـًٔا وَّلَا تُجْزَوْنَ اِلَّا مَا

وعده که چرے تاسوئے رشتینی (۴۸) انتظار نه کوی دوی مګر دَ چغے یوے چه اونیسی دوی لره او دوی به جګړے کوی (۴۹) نو وس به نه لری دَ وصیت کولو اونه به خپلے کورنئ ته واپس کیدے شی (۵۰) او پوکے به ورکړیشی په شپیلئے کښ نو دغه وخت به دوی دَ قبرونونه خپل رب طرف ته ورزغلیږی (۵۱) دوی به وائي هائے تباهی ده چا اوچت کړو مونږ دَ ځائے دَ سملاستو ځمونږ نه دا هغه وخت دے چه وعده ئے کړے ده رحمان او رشتیا وئیلی وؤ رسولانو (۵۲) نه ده دا مګر چغه یوه نو دغه وخت به دوی ټول زمونږ په مخکښ حاضر کړے شی (۵۳) نو نن ورځ ظلم به نشی کیدے په هیڅ نفس باندے هیڅ اونه به جزا درکیدیشی تاسوته مګر هغه

خلاف کوئے اومونږ ته دَ اللّٰه تعالیٰ دَمقابلے کولوحکم راکوئے نوتاسو ګمراه ئیے یا دا قول دَاللّٰه تعالیٰ دے کافرانوته چه دا قول ستاسودَ وجے دَګمراهئ نه دے ځکه چه تاسو دَ اللّٰه تعالیٰ دَ حکم نه انکار کوئے۔

[۴۸] دا دریم زجردے په انکار کولودَ بعث بعد الموت سره او متعلق دے دَ مابین ایدیهم او ماخلفهم سره۔

[۴۹] هرکله چه دَ دوی دا سوال عنادی وؤنوجواب ورکوی په ذکردَ هیبت دَ ورځ دَ فنا سره ﴿صَيْحَةً وَّاحِدَةً﴾ مراد دَ دے نه اوله شپیلئے وهل دی دَپاره دَفنا دَټول عالم او﴿وَاحِدَةً﴾ نه مراد دے په یوځل سره شپیلئے وهل اوفناکیدل دانه چه دویمه نفخه نیشته۔ اودَ هیبت دَپاره ئیے صیحه ذکرکړے ده په ځائے دَ نفخه باندے ﴿وَهُمْ يَخِصِّمُوْنَ﴾ یعنی دوی به دَ دنیا په خیزونوکښ بحثونه اوجګړے کوی توبه نه اوباسی حدیث مرفوع کښ وارد دی قیامت به قائم کیږی په داسے حال کښ چه دوه سړو به یوکپړه خوره کړے وی اوسودا به کوی نو رانغښتلے به ئیے نه وی چه قیامت به قائم شی۔ اویوسړی به یو اخوردَاوبوباندے دَختے یا سیمټوپلسترکړے وی لیکن ځاروی به ترینه اوبه کړی نه وی چه قیامت به قائم شی اویوسړی به نورئے دَ خوراك خولے ته پورته کړے وی لاتیره کړے به ئیے نه وی چه قیامت به قائم شی۔

[۵۰] مقصد دا دے چه هغه ځائے کښ به سمدستی مړه شی کوم ځائے کښ چه د وی معاملے کوی مهلت دوی ته نه ملاویګی۔

[۵۱] تخویف اخروی تفصیلاً ذکرکوی، په دے ایت کښ دَدویمے شپیلئے ذکر دے چه هغه دَپاره دَ بعث بعد الموت ده۔

[۵۲] ﴿مَرْقَدِنَا﴾ (سوال) مرقد ځائے دَ خوب ته وئیلے کیږی نومعلومه شوه چه په دوی باندے په قبرونو کښ هیڅ تکلیف اوعذاب نه وؤاوحال دا دے چه ډیرنصوص دلالت کوی په عذاب قبرباندے نواول جواب دا دے چه دَ ابن عباس رضی اللّٰه عنهما نه روایت دے چه عذاب دَ قبر تراولے نفخے پورے دے بیا تردویمے نفخے پورے عذاب نیشته، دویم جواب دا دے چه مرقد په معنیٰ دَ ځائے دَ مرګ دے په طریقه دَ

كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿٥٤﴾ اِنَّ اَصْحٰبَ الْجَنَّةِ الْيَوْمَ فِيْ شُغُلٍ فٰكِهُوْنَ ﴿٥٥﴾ هُمْ وَاَزْوَاجُهُمْ فِيْ ظِلٰلٍ عَلَى الْاَرَآئِكِ
مُتَّكِـُٔوْنَ ﴿٥٦﴾ لَهُمْ فِيْهَا فَاكِهَةٌ وَّلَهُمْ مَّا يَدَّعُوْنَ ﴿٥٧﴾ سَلٰمٌ ۚ قَوْلًا مِّنْ رَّبٍّ رَّحِيْمٍ ﴿٥٨﴾ وَامْتَازُوا الْيَوْمَ
اَيُّهَا الْمُجْرِمُوْنَ ﴿٥٩﴾ اَلَمْ اَعْهَدْ اِلَيْكُمْ يٰبَنِيْٓ اٰدَمَ اَنْ لَّا تَعْبُدُوا الشَّيْطٰنَ ۚ اِنَّهٗ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ﴿٦٠﴾
وَّاَنِ اعْبُدُوْنِيْ ۭ هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيْمٌ ﴿٦١﴾ وَلَقَدْ اَضَلَّ مِنْكُمْ جِبِلًّا كَثِيْرًا ۭ اَفَلَمْ تَكُوْنُوْا تَعْقِلُوْنَ ﴿٦٢﴾

وقف مقدار

چه تاسو کوم عملونه کول (٥٤) یقیناً جنتیان به نن ورځ په مشغولتیا کښ وی خوشحاله به وی (٥٥) دوی او دَ دوی بیبیانے به سورو کښ وی په پالنګونو باندے تکیه وهونکی (٥٦) دوی دپاره په هغے کښ میوے دی او دوی لره هغه څیز دے چه دوی غواړی (٥٧) سلام دے وینا به کیږی دَ طرف دَ رب رحم والانه (٥٨) (او به وئیلے شی) اوجدا شئے نن اے مجرمانو (٥٩) ایا ما پخه خبره نه وه کړے تاسوته اے اولادِ ادم چه مه کوئے بندګی (په طاعت کولو بے دلیله) دَ شیطان یقیناً هغه تاسو لره دُشمن ښکاره دے(٦٠) او دا چه بندګی خاص کوئے مالره دا لار ده نیغه (٦١) او یقیناً بے لارے کړیدی (په وسوسو سره) شیطان ستاسو نه ډلے ډیرے ایا پس تاسودَ عقل نه کار نه اخستلو (٦٢)

مجاز سره چه خوب رور دَ مرګ دے، دریم جواب دا دے چه دَ قیامت هیبتونه په دوی باندے دومره زیات شول چه عذاب دَ قبر دوی ته دَ هغے په مقابله کښ آرام ښکاریږی۔

[٥٣،٥٤] په دواړه ایاتونو کښ ذکرَ احوالو دَ قیامت دے۔

[٥٥،٥٦،٥٧،٥٨] په دے ایاتونوکښ ذکرَ بشارت دے مؤمنانولره په اول ایت کښ مزے دَ نعمتونواوپه دویم ایت کښ ذکرَ آرام اودَ راحت دَ ژوند اوپه دریم ایت کښ ذکر دَ خوراکونواوپه څلورم کښ ذکرَ سلامونودے ﴿فِيْ شُغُلٍ﴾ دا لفظ عام دے هغه ټولولذتونونعمتونوته شامل دے چه مشغولوی به دوی لره دَ دنیا دَ نعمتونو او دَ اور والو نه اګرچه دَ دوی اقرباء(خپلوان) وی ﴿فٰكِهُوْنَ﴾ تفسیردے دَ شغل یعنی دا مشغولا دَ غمونودَ وجے نه نه ده بلکه دَ مزو دَ وجے نه ده۔

[٥٩] دَ دے ایت نه تر (٦٥) پورے تخویف اُخروی دے اودلته دا لفظ محذوف دے اوبه وائي کافرانوته جداشئے اے مجرمانو ﴿اَلْيَوْمَ﴾ دَ دے وجے نه اوئیل چه په دنیا کښ دوی مخلوط وومسلمانان او کافران نوآخرت کښ به ئے دَ یوبل نه جدا کړی یا داچه اے مجرمانو دَ یوبل نه جداشئے یعنی دوی به مختلفے ډلے شی۔

[٦٠] ﴿يٰبَنِيْٓ اٰدَمَ﴾ دَ دے وجے نه ذکر کړو چه منع دَ شرك اوامرپه توحید سره دَ آدم علیه السلام دَ وخت نه شروع دے او ټول اولاد دَ آدم علیه السلام په دے سره مکلف دی ﴿اَنْ لَّا تَعْبُدُوْا﴾ عبادت په معنیٰ دَطاعت دے یعنی دَاللّٰه تعالیٰ دَطاعت پشان دَشیطان طاعت کول دا دَ شیطان عبادت دے یا داچه هره بندګی دَ غیر اللّٰه عبادت دَ شیطان دے ځکه چه دَ هغه په وسوسے سره دے۔

[٦١] دا امردَ توحید دے او دا دلیل دے چه صراط مستقیم توحیدته وئیلے کیږی۔

[٦٢] دا علت دے دَ دشمنیٔ دَ شیطان او زورنه ده مشرکینوته چه دَ تیر شوؤ ګمراه قومونو دَ حالت نه تاسو عبرت ولے نه حاصلوؤ ﴿جِبِلًّا﴾ مراد دَ دے نه خلق اوډلے دی اوتفسیر سراج المنیرکښ ذکرکوی چه

هٰذِهٖ جَهَنَّمُ الَّتِيْ كُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ ﴿٦٣﴾ اِصْلَوْهَا الْيَوْمَ بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُوْنَ ﴿٦٤﴾ اَلْيَوْمَ نَخْتِمُ عَلٰٓى
اَفْوَاهِهِمْ وَتُكَلِّمُنَآ اَيْدِيْهِمْ وَتَشْهَدُ اَرْجُلُهُمْ بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿٦٥﴾ وَلَوْ نَشَآءُ لَطَمَسْنَا عَلٰٓى
اَعْيُنِهِمْ فَاسْتَبَقُوا الصِّرَاطَ فَاَنّٰى يُبْصِرُوْنَ ﴿٦٦﴾ وَلَوْ نَشَآءُ لَمَسَخْنٰهُمْ عَلٰى مَكَانَتِهِمْ فَمَا اسْتَطَاعُوْا مُضِيًّا
وَّلَا يَرْجِعُوْنَ ﴿٦٧﴾ وَمَنْ نُّعَمِّرْهُ نُنَكِّسْهُ فِي الْخَلْقِ ؕ اَفَلَا يَعْقِلُوْنَ ﴿٦٨﴾ وَمَا عَلَّمْنٰهُ الشِّعْرَ وَمَا يَنْۢبَغِيْ

دا جهنم دے هغه چه تاسو سره ئے وعده کیدے شوه (٦٣) ورننوځئے دیته نن په وجه دَ دے چه تاسو کفر کوؤ (٦٤) نن ورځ به مهر اُوهو مونږ په خلو دَ دوی باندے او خبرے به کوی مونږ سره لاسونه دَ دوی او ګواهی به کوی خپے دَ دوی په هغه کارونو باندے چه دوی کول (٦٥) او که چرے او غواړو مونږ نو وراني به کړو سترګے دَ دوی نو ړوندے کیږی به لاړے ته نو څه رنګ به لیدل کوی (٦٦) او که چرے اوغواړو مونږ نو بدل به کړو شکلونه دَ دوی (ولاړ به وی) په خپلو ځایونو باندے نو طاقت به نه لری دَ مخکښ تللو او نه به واپس راګرځیدے شی (٦٧) او هغه څوك چه زیات عمر ورکړو مونږ هغه ته نو کمزوری به پیدا کړو مونږ په اندامونو دَ دهٗ کښ ایا نو دوی عقل نه لری (٦٨) او نه دے خودلے مونږ دے (نبی ته) شعر جوړول اونه مناسب دے

په دے لفظ کښ اشاره ده چه دا مخلوق دَ غرونو پشان غټ وو لیکن سرهٗ دَ دیٔ نه شیطان دهوکه کړل۔

[٦٤،٦٣] یعنی جهنم به ورته ښکاره کړے شی نوداسے خطاب به ورته اوکړیشی نو معلومه شوه چه مخکښ حال دَ میدان حشر وؤ او بیا به ئے جهنم ته داخل کړی۔

[٦٥] په دے تخویف کښ اشاره ده چه اللّٰه تعالیٰ به په آخرت کښ فیصلے صرف په خپل علم سره نه کوی بلکه دَ دنیا دَ فیصلوپشان به فیصلے په اقراراوپه شهادتونوسره کوی ﴿اَلْيَوْمَ نَخْتِمُ عَلٰٓى اَفْوَاهِهِمْ﴾ دَ دے مشهوره وجه دا ده چه دوی به انکار اوکړی دَشرك نه لکه چه په سورة انعام (٢٣) او خم مؤمن (٧٤) کښ دی او دا انکارئے دروغ دے نوخولے به ورلره بندے کړی یا دَ دے وجے چه اقرار دَ غیر ناطق پوره حجت دے په نسبت دَ اقرار دَ ناطق سره۔

[٦٦] دا تخویف دنیوی دے ربط ئے دا دے هرکله چه تیرشوی ایت کښ بندول دَ خولو ذکر کړل نوپه دے ایت کښ ذکر کوی چه په دنیا کښ هم اللّٰه تعالیٰ قادردے چه دَ دوی سترګے بندے کړی ﴿لَطَمَسْنَا﴾ طمس په اصل کښ هغه ړوندوالی ته وئیلے کیږی چه دَ سترګو چودونه ئے هم نه وی او زیزمے او بانړه ئے هم نه وی۔

[٦٧] دا دویم تخویف دنیوی دے تیرشوی ایت کښ صرف دَ سترګوطمس وؤ نورصورت انسانیه باقی دے اوپه دے ایت کښ ټول صورت اوشکل انسانی مسخ کول مراد دی چه ګټه شی یا شادو اوخنزیر ترے جوړشی۔

[٦٨] دا دلیل دَما قبل دے یعنی دَ قوتونوپه زائل کولوباندے اللّٰه تعالیٰ قادردے ځکه چه دَبوډاوالی په حالت کښ ټول طاقتونه ظاهری اوباطنی کمزوری کوی لیکن انبیاء علیهم السلام دَ دے نه بچ دی۔ ﴿الْخَلْقِ﴾ دَ دے نه مراد شکل اواندامونه اوقوّتونه دی۔

لَهٗ ؕ اِنْ هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ وَّقُرْاٰنٌ مُّبِيْنٌ ﴿٦٩﴾ لِّيُنْذِرَ مَنْ كَانَ حَيًّا وَّيَحِقَّ الْقَوْلُ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ﴿٧٠﴾
اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّا خَلَقْنَا لَهُمْ مِّمَّا عَمِلَتْ اَيْدِيْنَاۤ اَنْعَامًا فَهُمْ لَهَا مٰلِكُوْنَ ﴿٧١﴾ وَذَلَّلّٰنٰهَا لَهُمْ فَمِنْهَا
رَكُوْبُهُمْ وَمِنْهَا يَاْكُلُوْنَ ﴿٧٢﴾ وَلَهُمْ فِيْهَا مَنَافِعُ وَمَشَارِبُ ؕ اَفَلَا يَشْكُرُوْنَ ﴿٧٣﴾ وَاتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ

دهٔ لره نه دے دا کتاب مګر نصیحت او قرآن ښکاره دے (٦٩) دَ دے دپاره چه ویره ورکړی دے هغه چاته چه ژوندے وی (زړه دَ هغه) او پوره به شی حجت په کافرانو باندے (٧٠) ایا او دوی نه ګوری چه یقیناً پیدا کړی دی مونږ دوی لره دَ هغه قسم نه چه جوړ کړیدی لاسونو زمونږ څاروی نو دوی به هغے لره مالکان وی (٧١) او تابع ګرځولی دی مونږ هغے لره دَ دوی دپاره نو بعض دَ هغے نه سورلئے دَ دوی دی او بعض دَ هغے نه خوری دوی (٧٢) او دوی لره په هغے کښ نفعے دی او دَ څکلو ځیزونه دی ایا نو دوی شکر نه کوی (٧٣) او جوړ کړی دی دوی سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه

[٦٩] په دے ایت کښ صدق دَ قرآن اودَ رسول ذکرکوی متعلق دے دَ ابتدا دَ سورة سره اوجواب دَ اعتراض دَمشرکانو دے هغوی وئیل چه دا قرآن شعردے اودا نبی شاعردے اوشاعران اکثر دروغژن وی۔ او ربط دَ دے دَتیرشوی ایت سره دا دے چه تیرشوی ایت کښ دَعامو خلقودَ ظاهری اوباطنی کمزورئے ذکر اوشونوپه دے ایت کښ دَ پیغمبرشان ذکرکوی چه په هغه ضعف نیشته ﴿وَمَا يَنْبَغِيْ لَهٗ﴾ یومعنیٰ دا ده چه اللّٰه تعالیٰ تعلیم دَ شعرجوړولونه دے ورکړے نو دهٔ لره دَ هغے جوړول اسان نه دی ۔ دویمه معنیٰ دا ده چه شعرونه جوړول دَ دهٔ دَ شان سره مناسب نه دی ځکه چه په شعر جوړولو کښ تکلّف وی او دا دَ (ما انامن المتکلفین) نه خلاف دے او دارنګ شعرونه اکثر دَ حقیقت نه خلاف مضمون باندے مشتمل وی اوهر چه فصاحت او بلاغت دے نوهغه اللّٰه تعالیٰ نبی ﷺ ته په اعلیٰ مرتبه کښ ورکړیدے۔

[٧٠] په دے ایت کښ دوه فائدے ذکرکوی په لف نشرمرتب سره یعنی هرکله چه ذکر دے نوفائده دَ دے انذار دے اوهرکله چه قرآن (لوستل) ښکاره دی نو حجت به قائم شی په کافرانو باندے ﴿حَيًّا﴾ مراد ترینه حیات دَ قلب دے چه دَ هغوی ذکردَ سورة په (١١) کښ شویدے۔

[٧١،٧٢،٧٣] دَ دے ایت نه تراخر پورے دریم باب دے په دے کښ درے عقلی دلیلونه دی په رد دَ شفاعت شرکیه باندے بیا زجر دے مشرکینوته او تسلّی ده رسول اللّٰه ﷺ ته بیا زجر دے منکرینو دَ بعث بعد الموت ته اوشپږ عقلی دلیلونه دی په اثبات دَ قیامت باندے په دے درے ایاتونوکښ انعامات ذکرکوی په باره دَ څاروۂ کښ ﴿مِمَّا عَمِلَتْ اَيْدِيْنَاۤ﴾ من بیانیه دے دَ انعاماً دپاره یعنی انعام (څاروی) اللّٰه تعالیٰ په خپلولاسونوسره جوړ کړیدی دَ بل چاپکښ هیڅ دخل نیشته اشاره ده ردکولوته په مشرکینوباندے چه دَ دوی شفعاء په دے څاروۂ کښ هیڅ عمل نه دے کړے نودا مشرکان دَځه وجے نه دَهغوی په نوم باندے داڅاروی منخته کوی یا دَهغوی پئے په یؤلسمه کښ ورکوی یا دَهغوی په نوم ئے ذبح کوی اودا مقصددے په ﴿اَفَلَا يَشْكُرُوْنَ﴾ کښ ځکه چه دَ شکرنه مراد توحید دے۔

اٰلِهَةً لَّعَلَّهُمْ يُنْصَرُوْنَ ﴿٧٤﴾ لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ نَصْرَهُمْ وَهُمْ لَهُمْ جُنْدٌ مُّحْضَرُوْنَ ﴿٧٥﴾ فَلَا يَحْزُنْكَ قَوْلُهُمْ
اِنَّا نَعْلَمُ مَا يُسِرُّوْنَ وَمَا يُعْلِنُوْنَ ﴿٧٦﴾ اَوَلَمْ يَرَ الْاِنْسَانُ اَنَّا خَلَقْنٰهُ مِنْ نُّطْفَةٍ فَاِذَا هُوَ خَصِيْمٌ
مُّبِيْنٌ ﴿٧٧﴾ وَضَرَبَ لَنَا مَثَلًا وَّنَسِيَ خَلْقَهٗ ؕ قَالَ مَنْ يُّحْيِ الْعِظَامَ وَهِيَ رَمِيْمٌ ﴿٧٨﴾ قُلْ يُحْيِيْهَا الَّذِيْٓ اَنْشَاَهَآ
اَوَّلَ مَرَّةٍ ؕ وَهُوَ بِكُلِّ خَلْقٍ عَلِيْمُ ﴿٧٩﴾ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمْ مِّنَ الشَّجَرِ الْاَخْضَرِ نَارًا فَاِذَآ اَنْتُمْ مِّنْهُ تُوْقِدُوْنَ ﴿٨٠﴾

حق دار دَ بندګئے دَ دے دپاره چه دوی سره مدد اوکړیشی (٧٤) طاقت نه لری هغوی دَ مدد کولو دَ دوی او دوی هغوی لره لښکر دے حاضر کړے شوے (٧٥) نو غمژن دِ نه کړی تا لره وینا دَ دوی یقیناً مونږ پوهیږو په هغه څیز چه دوی ئے پټوی او هغه چه دوی ئے ښکاره کوی (٧٦) ایا نه ګوری انسان چه مونږ پیدا کړے دے دَ نطفے نه نو ناګاهه دے جګړمار ښکاره دے (٧٧) او ذکر کړے دے زمونږ دپاره یو اعتراض اوهیر کړے دے پیدائش خپل وائي څوك به ژوندی کړی هډوکی اوحال داچه دابه ذرے ذرے وی (٧٨) ته اُوایه ژوندے به کړی دے لره هغه ذات چه پیدا کړیدی اول کرت او هغه په ټول مخلوق باندے ښه پوهه دے (٧٩) داسے ذات دے پیدا کړے دے ستاسو دپاره دَ شنے اوسے نه اور نو تاسو دَ هغے نه اور بلوئے (٨٠)

[٧٤] دا زجردے په شرك سره اودا تفصیل دَ لایشکرون دے ﴿لَعَلَّهُمْ يُنْصَرُوْنَ﴾ معلومه شوه چه لوے مقصد دَ شرك فی الالوهیة مد د دَ الهونه حاصلول دی دَ دے وجے نه رامددشه آواز ورته کوی۔

[٧٥] دا رد دے دَ دوی په امید(دَ نصرت) باندے﴿وَهُمْ لَهُمْ جُنْدٌ مُّحْضَرُوْنَ﴾ اول ضمیر راجع دے عابدانو(مشرکانوته) اودویم ضمیرراجع دے الهوته مراد دا دے چه دا مشرکان دَ دے معبودانو دَپاره پشان دَ پولیس اوفوج دی چه دَ هغوی څوکیداری کوی چه څوك ترینه څه څیز اونه تختوی او نقصان ورته اونه رسوی او دارنګ که څوك مؤحد دَ هغوی عجز بیانوی نو دوی په هغوی باندے غصه کیږی او مؤحد لره بے عزّته کوی او دا حال بعینهٖ دَ قبر پرستو خلقو دے ، اودویم احتمال دا دے چه اول ضمیر راجع دے معبودانوته او دویم عابدانوته په دے کښ بیا دوه توجیهات دی اوله توجیه داده چه دا دَ دے مشرکانو په زعم اوپه عقیده باطله باندے بنادے دویمه توجیه داده چه لام په معنیٰ دَ علیٰ سره دے یعنی دا آلهه به دَ دوی په ضد اومخالفت کښ لښکرے حاضره وی په ورځ دَ قیامت کښ۔

[٧٦] دا تسلّی ده رسول اللّٰهﷺ ته ﴿قَوْلُهُمْ﴾ مراد دَ دے نه دَ دوی اقوال شرکیه او تکذیب دَ رسول دے اوانکار دَ قیامت دے چه هغه په روستو ایت کښ ذکر دے۔

[٧٧] دا زجر دے په انکار دَ قیامت سره۔

[٧٨] دا بیان دَخصومت دَ هغه دے ﴿وَضَرَبَ لَنَا مَثَلًا﴾ مراد دَ دے نه صرف ذکرکول دَ عجیبه خبرے دی ځکه چه انکار کول دی، دَ قدرت اودَ علم دَ اللّٰه تعالیٰ نه ډیره عجیبه ده ۔ یا مراد دا چه دے انسان قدرت اوعلم دَ اللّٰه تعالیٰ دَ خپل قدرت او دَ علم پشان ګڼلے دے۔

[٧٩] دا جواب دَ قول دَ دغه منکردے په ذکردَ قدرت دَ اللّٰه تعالیٰ په قیاس کولو سره په اول پیدائش باندے اوپه ذکردَ علم دَ اللّٰه تعالیٰ سره په ټولوذرّاتودَمخلوق باندے نوپه ذرّاتودَ هډوکودَ مړوباندے هم علم

اَوَلَيْسَ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِقٰدِرٍ عَلٰٓى اَنْ يَّخْلُقَ مِثْلَهُمْ ؕ بَلٰى ۚ وَهُوَ الْخَلّٰقُ الْعَلِيْمُ ﴿٨١﴾ اِنَّمَآ اَمْرُهٗٓ
اِذَآ اَرَادَ شَيْـًٔا اَنْ يَّقُوْلَ لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ ﴿٨٢﴾ فَسُبْحٰنَ الَّذِيْ بِيَدِهٖ مَلَكُوْتُ كُلِّ شَيْءٍ وَّاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿٨٣﴾

ایا اونه دے هغه ذات چه پیدا کړیدی اسمانونه او زمکه قدرت لرونکے په دے خبره باندے چه پیدا کړی دَ دوی پشان او هغه ډیر پیدائش کوؤنکے او ښه پوهه دے (٨١) یقیناً حکم دَ هغه کله چه اوغواړی پیدا کول دَ یو څیز چه اُوائي هغے ته اوشه نو هغه اوشی(٨٢) نو پاکی ده دَهغه ذات چه په لاس دَهغه کښ بادشاهی دَ هر څیز ده او خاص هغه ته به اوګرځولے شئے تاسو (٨٣)

لری اودا اول دلیل دے په اثبات دَحشرباندے۔

[٨٠] دا بل دلیل دے په اثبات دَ قیامت باندے یعنی لکه چه اورپیداکوی دَ شنے اونے نه اودا ډیرعجیبه ده څکه چه په یوځائے کښ اوبه اواور اولرګے ئے جمع کړیدی نودارنګ دَ اوچوخاورونه دوباره انسان لره پیداکولے شی﴿الشَّجَرِالْاَخْضَرِ﴾مراد دَ دے نه هره شنه اونه ده حکماؤ وئیلی دی په هره اونه کښ اورشته سیوادَ عنّاب (مرخنړئ) نه۔ یا مراد دَ دے دوه قسمه اونے دی چه مرخ اوعفار ورته وئیلے کیږی پانړه یا لرګے دَمرخ (چه مذکردے)په عفارباندے(چه مؤنث ده)اوځولوی نواورترے پیداشی۔

[٨١] دا بل دلیل دے په اثبات دَ بعث بعد الموت باندے ۔

[٨٢] دا هم دلیل دے په اثبات دَ قیامت باندے دلته دَ﴿اَمْرُهٗٓ﴾ نه مراد صفت اوشان دَ اللّٰه تعالیٰ دے یا مراد ترینه امر دَ ساعت (قیامت) دے۔

[٨٣] دا هم دلیل دے اونتیجه ده دَ ټولودلیلونوتیرشوؤپه بیان دَتوحیدسره په سبحان کښ اوپه ذکرد قیامت سره په الیه ترجعون کښ۔

سُوْرَةُ الصّٰفّٰت (٣٧) مَكِّيَّةٌ (٥٦) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ١٨٢ رُكُوْعَاتُهَا ٥

وَالصّٰٓفّٰتِ صَفًّا ۝١ فَالزّٰجِرٰتِ زَجْرًا ۝٢ فَالتّٰلِيٰتِ ذِكْرًا ۝٣ اِنَّ اِلٰهَكُمْ لَوَاحِدٌ ۝٤ رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

قسم دے په هغه ملائکو باندے چه صفونه جوړوی صفونه (١) بیا هغه چه شړونکی دی په شړلو سره (٢) بیا هغه چه لوستونکی دی ذکر لره (په طریقے دَ شهادت سره په دے خبره باندے) (٣) چه یقیناً حق دار دَ بندګئ ستاسو یو ذات دے (٤) رب دَ اسمانونو او دَزمکے

سورة الصّٰفّٰت

ربط: دَ دے سورة دَ مخکښ سورة سره په ځووجوهو سره دے اوله وجه دا ده چه په هغه سورة کښ رد وؤ په شفاعتِ قهریه (شرکیه) باندے نوپه دے سورة کښ دَ هغے علت ذکرکوی چه هغه عجز او احتیاج دَ نیکانو بندګانودے۔ دویمه وجه داد ه چه مخکښ سورة کښ عقلی دلیلونه وو نو په دے سورة کښ نقلی دلیلونه ذکرکوی۔

دعویٰ دَ سورة : اثبات دَ توحید دے په ذکرکولودَ احتیاج اودَ عجزدَ ملائکواواحتیاج اوعبدیت دَ پیغمبرانواوذلت دَ جنّاتو سره دَ رد دَ شرك بالملائکه والجن والانبیاء نه اورد دَشرك فی العبادة والدعاء دے احوال دَملائکوپه (١،٢،٣،١٦٤،١٦٥، ١٦٦) کښ اواحوال دَجنّاتو(٧،٨،٩،١٠،١٥٨،١٦٠)کښ ذکرکوی۔ اواحوال دَ اوؤ پیغمبرانو، نوح اوابراهیم اوموسیٰ سره دَ هارون اوالیاس اولوط اویونس علیهم السلام نه اوماخذ دَ دعوے په آخردَ سورة (١٨١)کښ دے چه انبیاء علیهم السلام محتاج دی اللّٰه تعالیٰ ته په سلامتیاکښ اودعویٰ دَ توحید (١٨٠،١٨٢)کښ ذکر ده۔

خلاصه دَ سورة : په دے کښ درے بابونه دی اول باب تر(٧٤) پورے دے په دے کښ احوال دَملائکو دَپاره دَشهادت په توحید باندے دی بیا تذلیل دَجناتوذکرکوی تر(١٠)پورے بیا ځلورقسمه زجرونه ذکر کوی تر(٢٠)پورے بیابرائت دَ الهو باطلو اودَعابدانودَ هغوی دَیوبل نه ذکرکوی تخویفاً تر(٣٤) پورے بیا بشارت تفصیلیه تر(٦١) اوتخویف اُخروی تفصیلی تر (٧٤) پورے ذکرکوی۔

تفسیر

[١،٢،٣،٤] په دے کښ صفات دَملائکودی اودا غوره قول دے چه ملائك دَ اللّٰه تعالیٰ بندګئ دپاره په صفونوکښ ولاړدی لکه چه صحیح حدیث کښ وارد دی چه صفونه دَ دے امت دپاره دَمونځ دَجماعت په شان دَ صفونودَ ملائکودی چه اولنی صفونه پوره کوی اودَیوبل سره پیوست ولاړوی۔اوملائك زجرکوی (شړی) شیطانانولره دَاسمان نه اوشړی وریځولره دَیو طرف نه بل طرف ته اومنع کوی مؤمنانو لره دَکناهونونه په الهام دَخیرسره اوملائك تلاوت کوی دَوحی اوذکرکوی اللّٰه تعالیٰ لره په تسبیح او حمد اوتقدیس سره اودویم قول دا دے چه مراد دَ دے نه جماعتونه دَ مؤمنانو دی چه دا درے کارونه کوی۔

وَمَا بَيْنَهُمَا وَرَبُّ الْمَشَارِقِ ۝٥ اِنَّا زَيَّنَّا السَّمَآءَ الدُّنْيَا بِزِيْنَةِ ِۨالْكَوَاكِبِ ۝٦ وَحِفْظًا مِّنْ كُلِّ شَيْطٰنٍ مَّارِدٍ ۝٧
لَا يَسَّمَّعُوْنَ اِلَى الْمَلَاِ الْاَعْلٰى وَيُقْذَفُوْنَ مِنْ كُلِّ جَانِبٍ ۝٨ دُحُوْرًا وَّلَهُمْ عَذَابٌ وَّاصِبٌ ۝٩ اِلَّا مَنْ
خَطِفَ الْخَطْفَةَ فَاَتْبَعَهٗ شِهَابٌ ثَاقِبٌ ۝١٠ فَاسْتَفْتِهِمْ اَهُمْ اَشَدُّ خَلْقًا اَمْ مَّنْ خَلَقْنَا ؕ اِنَّا خَلَقْنٰهُمْ مِّنْ طِيْنٍ
لَّازِبٍ ۝١١ بَلْ عَجِبْتَ وَيَسْخَرُوْنَ ۝١٢ وَاِذَا ذُكِّرُوْا لَا يَذْكُرُوْنَ ۝١٣ وَاِذَا رَاَوْا اٰيَةً يَّسْتَسْخِرُوْنَ ۝١٤ وَقَالُوْٓا اِنْ

او دَمینځ دَ دے دواړو دے او رب دَ مشرقونو دے (٥) یقیناً خائسته کړے دے مونږ اسمان نزدے په خائست سره چه ستوری دی (٦) اوساتلے دے مونږ په ساتنے سره دَهر شیطان سرکش نه (٧) غوګ نشی کیدولے مجلس بره ته او ویشتلے کیدے شی دَ هر طرف نه (٨) رټلے کیدیشی په رټنے سره او دوی لره عذاب پیوست کیدونکے دے (٩) مګر هغه څوك چه اوتختوی څه خبره په تختولو سره نو روانه شی په هغه پسے شغله بلیدونکے (١٠) نو تپوس اوکړه ایا دوی پوخ پیدائش والادی او که هغه څوك چه مونږ پیدا کړیدی یقیناً پیدا کړیدی مونږ دوی لره دَ خټے نه چه سلیخناکه وه (١١) بلکه ته تعجب کوے او مسخرے کوی (دوی) (١٢) او کله چه دوی ته نصیحت کیدیشی نو نصیحت نه قبلوی (١٣) او کله چه اُوینی معجزه نو مسخره ترینه جوړه کړی (١٤) او دوی وائي نه دے

[٥] دا دلیل عقلی دے دپاره دَتوحید روستودَدلیل نقلی اودَ قسم نه ﴿اَلْمَشَارِقِ﴾ دائیے جمع ذکرکړے ده لکه په سورة معارج (٤٠)کښ دی ځکه چه مراد دَ دے نه دَ هرے یوے ورځے دَ نمرښکاره کیدلوځائے دے اوهغه درے سوه اوپنځه شپیته دی لکه چه امام قرطبی ذکرکړی دی اودرے سوه شپیته خطیب شربینی ذکر کړی دی اویوسل اتیا ابن عطیه په محررالوجیزکښ ذکرکړی دی و اللّٰه اعلم لیکن مشهور قول اول دے۔

[٦] داهم دلیل عقلی دے په توحید باندے اوتمهید دَپاره دَحال دَپیریانودے چه دوی عاجزاو ذلیل دی نو څرنګ دَ اللّٰه تعالیٰ سره شریك کیدے شی یا زور آور سفارشی جوړیدے شی او رد دے په مشرکین بالجن باندے اودارنګ دا رد په مشرکین بالکواکب باندے هم دے ځکه چه ستوری صرف دَ زینت او دَ حفاظت دَپاره پیداکړے شویدی معبودان نشی جوړیدے۔

[٧،٨،٩،١٠] په دے ایاتونوکښ دویمه فائده دَستوروذکرکوی لکه سورة حجر(١٧)کښ تیرشویده اوپه دے کښ دَ شیطانانواته حالتونه ئے ذکرکړی دی﴿اَلْمَلَاِ الْاَعْلٰى﴾ مجلس دَ اشرافو او دَ افضل ملائکو چه هغوی دَ اللّٰه تعالیٰ دَ وحی په باره کښ مجلس کوی۔

فائده: دَ نبوت دَ نبی ﷺ نه روانديے هم شیاطین په داسے شغلوسره ویشتلے کیدل لیکن هغه لږ وو او روستو دَ شروع کیدلو دَ نزول دَ قرآن نه دا شغلے ډیرے شوے دَ هرطرف دَ اسمان نه شروع شوے دَ دے دپاره چه دَ کاهنانودَ خبرو دَ وحے نه په قرآن کریم کښ تلبیس پیدا نشی اودَ حفاظت دَ قرآن دَ وحے اودَ نبی ﷺ دَهمیشه صدق دَپاره دا معامله دَ شیاطینو سره روستو دَ وفات دَ نبی ﷺ نه هم باقی ده۔

[١١] دا زجرے منکرینودَ بعث الموت ته اومراد دَ ﴿مَنْ خَلَقْنَا﴾ نه ملائك اومشرق اوستوری اوشیاطین او شهابونه (شغلے)دی چه مخکښ ذکر شول چه اللّٰه تعالیٰ دَ دے ټیزونو پیدائش باندے قادر دے

هٰذَآ اِلَّا سِحۡرٌ مُّبِيۡنٌ ﴿١٥﴾ ءَاِذَا مِتۡنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَّعِظَامًا ءَاِنَّا لَمَبۡعُوۡثُوۡنَ ﴿١٦﴾ اَوَاٰبَآؤُنَا الۡاَوَّلُوۡنَ ﴿١٧﴾ قُلۡ نَعَمۡ وَاَنۡتُمۡ
دَاخِرُوۡنَ ﴿١٨﴾ فَاِنَّمَا هِىَ زَجۡرَةٌ وَّاحِدَةٌ فَاِذَا هُمۡ يَنۡظُرُوۡنَ ﴿١٩﴾ وَقَالُوۡا يٰوَيۡلَنَا هٰذَا يَوۡمُ الدِّيۡنِ ﴿٢٠﴾ هٰذَا يَوۡمُ الۡفَصۡلِ
الَّذِىۡ كُنۡتُمۡ بِهٖ تُكَذِّبُوۡنَ ﴿٢١﴾ اُحۡشُرُوا الَّذِيۡنَ ظَلَمُوۡا وَاَزۡوَاجَهُمۡ وَمَا كَانُوۡا يَعۡبُدُوۡنَ ﴿٢٢﴾ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ
فَاهۡدُوۡهُمۡ اِلٰى صِرَاطِ الۡجَحِيۡمِ ﴿٢٣﴾ وَقِفُوۡهُمۡ اِنَّهُمۡ مَّسۡـُٔوۡلُوۡنَ ﴿٢٤﴾ مَا لَكُمۡ لَا تَنَاصَرُوۡنَ ﴿٢٥﴾ بَلۡ هُمُ الۡيَوۡمَ
مُسۡتَسۡلِمُوۡنَ ﴿٢٦﴾ وَاَقۡبَلَ بَعۡضُهُمۡ عَلٰى بَعۡضٍ يَّتَسَآءَلُوۡنَ ﴿٢٧﴾ قَالُوۡۤا اِنَّكُمۡ كُنۡتُمۡ تَاۡتُوۡنَنَا عَنِ الۡيَمِيۡنِ ﴿٢٨﴾ قَالُوۡا بَلۡ

دا مګر جادو ښکاره دے (١٥) ایا کله چه مونږ مړه شو او خاورے او هډوکی شو ایا مونږ دوباره پیدا کیدے شو (١٦) او ایا پلاران زمونږ زاړه (١٧) ته اُوایه هاو تاسو به ذلیل ئیے (١٨) نو یقیناً دا تیزه چغه ده یوه نو دغه وخت به دوی ګوری (١٩) او وائي به هائے تباهی ده زمونږ دا ورځ دَ جزا ده (٢٠) (اوبه وئیلے شی) دا ورځ دَ فیصلے ده هغه چه تاسو هغه دروغ ګڼرله (٢١) را جمع کړئے (اے ملائکو) هغه کسان چه ظلم ئیے کړے دے او دَ دوی ملګری او هغه کسان چه دوی ئیے بندګی کوله (٢٢) سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه نو روان کړئے هغوی لارے دَ جهنم ته (٢٣) او اودروئے دوی یقیناً دَ دوی نه تپوس کیدے شی (٢٤) څه وجه ده تاسو لره چه دَ یوبل سره مدد نه کوئے (٢٥) بلکه دوی به نن ورځ تابعدار وی (٢٦) او مخامخ به شی بعض دَ دوی په بعضو باندے تپوسونه به کوی (٢٧) وائي به (کشران) یقیناً تاسوو ئے چه راتللے مونږ ته (په منع کولو سره) دَ (دین) حق نه (٢٨) اوبه وائي (مشران) بلکه

نو دوباره پیدا کولو دَ انسانانو باندے هم قادردے ﴿لَازِبٍ﴾ هغه خټه چه ډیروخت پرے تیرشی خمیره شی او بیا لاسونو پورے انخلی اوهغے ته سلیخ ناکه وئیلے کیږی۔

[١٢] دا زجر دے په انکار دَ رسالت سره۔

[١٣، ١٤، ١٥] په اول ایت کښ زجردے په انکارد قرآن اودویم ایت کښ زجردے په انکارد معجزے او دَ رسالت۔

[١٦، ١٧، ١٨، ١٩، ٢٠، ٢١] په دے ایاتونو کښ زجردے په انکارد بعث بعد الموت سره۔ درے کرته ئیے همزه دَ استفهام راوړے دے دَوجے دَډیراستبعادنه ﴿يَنۡظُرُوۡنَ﴾ دا عام دے یعنی یوبل ته به نظر کوی خپل حالت ته به ګوری یا په معنیٰ دَ انتظار دَجزاء دے۔ یا نظرکنایه ده دَ ژوندی کیدلونه۔ امام بقاعی وئیلی دی چه نظرئیے خاص کړوپه ذکرسره چه نظربغیردَحیات نه نه موجودیږی اونورحواس کله کله بغیردَ حیات نه هم موجودیږی ﴿هٰذَا يَوۡمُ الۡفَصۡلِ﴾ دا قول دِ منکرینو دے یوبل ته یا قول دے دَ طرف دَ اللّٰه تعالیٰ نه۔

فائده: په دے ایاتونو کښ دَ قیامت دوه نومونه ذکرکړے شو یوم الدین او یوم الفصل۔

[٢٢، ٢٣، ٢٤، ٢٥، ٢٦] په دے ایاتونو کښ تخویف اُخروی په پنځه حالاتوسره ذکرکړو (١) حشر، (٢) دَجهنم لارے ته رواندے کول، (٣) حصارول دَتپوسونودَپاره، (٤) یوبل سره نصرت نه کول، (٥) ذلیل منقادکیدل په مجبورئے سره ﴿وَاَزۡوَاجَهُمۡ﴾ مراد دَ دے نه هغه کسان دی چه مشابه دی یوبل سره په نوعه دَ ظلم اوګناه کښ۔ یعنی مشرك بالملائکه به دَ مشرك بالملائکه سره اوبت پرست به دَ بت پرست سره

لَمْ تَكُونُوا مُؤْمِنِينَ ﴿٢٩﴾ وَمَا كَانَ لَنَا عَلَيْكُم مِّن سُلْطَانٍ ۚ بَلْ كُنتُمْ قَوْمًا طَاغِينَ ﴿٣٠﴾ فَحَقَّ عَلَيْنَا قَوْلُ
رَبِّنَا ۖ إِنَّا لَذَائِقُونَ ﴿٣١﴾ فَأَغْوَيْنَاكُمْ إِنَّا كُنَّا غَاوِينَ ﴿٣٢﴾ فَإِنَّهُمْ يَوْمَئِذٍ فِي الْعَذَابِ مُشْتَرِكُونَ ﴿٣٣﴾ إِنَّا كَذَٰلِكَ
نَفْعَلُ بِالْمُجْرِمِينَ ﴿٣٤﴾ إِنَّهُمْ كَانُوا إِذَا قِيلَ لَهُمْ لَا إِلَٰهَ إِلَّا اللَّهُ يَسْتَكْبِرُونَ ﴿٣٥﴾ وَيَقُولُونَ أَئِنَّا لَتَارِكُوا آلِهَتِنَا

نه وئے تاسو ایمان راوړونکی (۲۹) اونه وؤ مونږ لره په تاسو باندے هیڅ زور (دلیل) بلکه تاسو وئے قوم سرکشان (۳۰) نو پوره شوے ده په مونږ باندے فیصله دَ رب زمونږ یقیناً مونږ ځکونکی دَ عذاب یو (۳۱) نو ګمراهئ ته مونږ را اوبللے تاسو ځکه چه مونږ ګمراهان وؤ (۳۲) نو یقیناً دوی به په دغه ورځ په عذاب کښ شریك وی (۳۳) یقیناً مونږ داسے کار کوؤ دَ مجرمانو سره (۳٤) یقیناً دوی وؤ چه کله به اُوئیلے شو دوی ته نیشته حقدار دَ بندګئ سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه نو دوی به لوئی کوله (۳۵) او دوی به وئیل ایا مونږ پریګدو معبودان خپل

اومشرك دَستورودَ خپل مشابه سره اوقبرپرست به قبرپرست سره او زانی دَ زانی سره اوشرابی دَ شرابی سره اوبدعتی دَبدعتی سره به یوځائے کړے شی اودے ته په عام عرف کښ پیربایان وئیلے کیږی ﴿وَمَا كَانُوا يَعْبُدُونَ﴾ دَ دے نه مراد هغه پیران اوملایان دی چه عاموډَ دوی طاعت کړے دے په شرك او بدعاتو او ګناهونوکښ اودوی پرے رضا وو ﴿مَالَكُمْ لَا تَنَاصَرُونَ﴾ داهم داخل دے په تپوسونوکښ اودا رد دے دَ دوی په دعویٰ باندے په دنیا کښ چه دا معبودان به زمونږ امداد کوی او دلته مراد دَ نصرت نه دَ عذاب نه بچ کول دی۔

[۲۷،۲۸،۲۹،۳۰،۳۱،۳۲] (ربط) هرکله چه معلومه شوه چه دوی به دَ تپوس دَ جواب نه چپ وی نو وهم راځی چه ایادوی به چاراګان وی ژبے به ئے بندے وی؟ نو دَ دے وهم ازاله کوی چه دوی به یوبل لره ملامته کوی اوپه دے ایاتونوکښ تخویف اخروی دے په طریقه دَبرائت دَ الٰهوباطلواودَ عابدانوډَ هغوی دَیوبل نه په ورځ دَقیامت ﴿سُلْطَانٍ﴾ په معنیٰ دَ حجت اودلیل دے یعنی مونږتاسوته هیڅ حجت اودلیل په شرك باندے نه دے پیش کړے یا مراد دَ سلطان نه زوراوجبرکول دی ﴿فَأَغْوَيْنَاكُمْ﴾ حاصل داچه مونږپه تاسوزورنه دے کړے اونه هم درته دلیل پیش کړے صرف دعوت دَګمراهئی مودرته کړیدے دَ دے دپاره چه زمونږ ملګری دَ ګمراهئی ډیرشی نو تاسو زمونږ دعوت په خپله خوښه باندے قبول کړے دے ۔

[۳۳،۳٤] هرکله چه ثابته شوه چه دواړه ډلے په غوایت کښ شریك دی نولازمه ده چه په عذاب کښ به هم شریك وی۔

[۳۵] داعلّت دَماقبل دَ عذاب دے اوزجردے په انکاردَتوحید سره معلومه شوه چه مشرك دَ اللّٰه تعالیٰ نه اودَ هغهٔ دَصفتونواو عبادتونونه انکارنه کوی لیکن صرف دَ توحید نه انکارکوی لکه چه سورة اسراء (٤٦) کښ تیرشویدی او سورة ص(٥) اوزمر (٤٥) کښ به راشی۔

لِشَاعِرٍ مَّجْنُوْنٍ ﴿٣٦﴾ بَلْ جَآءَ بِالْحَقِّ وَصَدَّقَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿٣٧﴾ اِنَّكُمْ لَذَآئِقُوا الْعَذَابِ الْاَلِيْمِ ﴿٣٨﴾ وَمَا تُجْزَوْنَ
اِلَّا مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿٣٩﴾ اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ الْمُخْلَصِيْنَ ﴿٤٠﴾ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ رِزْقٌ مَّعْلُوْمٌ ﴿٤١﴾ فَوَاكِهُ ۚ وَهُمْ مُّكْرَمُوْنَ ﴿٤٢﴾
فِيْ جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ﴿٤٣﴾ عَلٰى سُرُرٍ مُّتَقٰبِلِيْنَ ﴿٤٤﴾ يُطَافُ عَلَيْهِمْ بِكَاْسٍ مِّنْ مَّعِيْنٍ ﴿٤٥﴾ بَيْضَآءَ لَذَّةٍ لِّلشّٰرِبِيْنَ ﴿٤٦﴾
لَا فِيْهَا غَوْلٌ وَّلَا هُمْ عَنْهَا يُنْزَفُوْنَ ﴿٤٧﴾ وَعِنْدَهُمْ قٰصِرٰتُ الطَّرْفِ عِيْنٌ ﴿٤٨﴾ كَاَنَّهُنَّ بَيْضٌ مَّكْنُوْنٌ ﴿٤٩﴾

دَ وجے دَ شاعر لیونی نه (٣٦) بلکه راوړے دے حق او تصدیق ئے کړے دے دَ رسولانو (٣٧) یقیناً تاسو خامخا څکونکی دَ عذاب درد ناك ئے (٣٨) او بدله نشی درکیدے تاسوته مګر دَ هغه عملونو چه تاسو کول (٣٩) مګر بندګان دَ اللّٰه تعالیٰ چه بچ ساتلے شویوی (٤٠) دغه کسان دوی لره روزی ده معلوم صفتونو والا (٤١) میوے دی او دَ دوی به عزت کیدیشی (٤٢) په جنتونو دَ نعمتونو کښ (٤٣) په تختونو به وی یو بل ته مخامخ (٤٤) ګرځولے به شی په دوی باندے کاسے ډکے دَ خاص شرابو نه (٤٥) سپین مزه ورکوونکی به وی څکونکو ته (٤٦) نه به وی په هغے کښ افتونه او نه به دوی له دَهغے (شرابو) نه الټئے ورځی (٤٧) او دوی سره به وی (بنځے) بند لرونکی به وی نظر خپل لره خاوندانو ته خائسته سترګو والا به وی (٤٨) ګویا دوی اګے پټے ساتلے شویدی (٤٩)

[٣٦] دا دویم علّت دَ عذاب دے اوزجردے په انکارد رسول ﷺ۔

[٣٧] دا رد دے په دغه منکرینوباندے دَ حَق نه مراد توحید دے او ﴿صَدَّقَ﴾ کښ اشاره ده چه توحید دَ ټولوانبیاء علیهم السلام یو دین دے نو دَ دے رسول نه انکارکول دَ ټولو رسولانونه انکار کول دی۔

[٣٨،٣٩] دا تخویف دے او تفریع ده په تیرشوی دواړه علتونو باندے ۔

[٤٠] ﴿الْمُخْلَصِيْنَ﴾ نه مراد هغه کسان دی چه اللّٰه تعالیٰ خالص کړی اوغوره کړی دی دَتوحید اودَ دین اودَ دوستانے دَ ځان دپاره۔

[دَ٤١نه٤٩] پورے په دے ایاتونوکښ بشارت ذکرکوی په ځوارلس انعاماتوخاصو سره ﴿مَعْلُوْمٌ﴾ دلته یوسوال دے چه سورة الم سجده (١٧) کښ اخفی لهم من قرة اعین تیرشویدے هغهٔ دلالت کوی چه دَ جنّت نعمتونه هیچاته نه دی معلوم اودلته فرمائي ﴿رِزْقٌ مَّعْلُوْمٌ﴾؟جواب دا دے چه معلوم دی بعض صفتونه دَهغے چه همیشه دی۔ او بُکْرَةً وَّ عَشِيًّا دی او تفصیلی حقیقت ئے ندے معلوم ﴿مُتَقٰبِلِيْنَ﴾ یعنی دَیوبل شابه نه وینی کنایه ده چه دَ یوبل نه به نه خفه کیږی۔ یامراد دا دے چه داکټونه به چاپیره ګرځی۔ نویوبل ته به شانه ګرځی ﴿غَوْلٌ﴾ پټ ضررته وئیلے کیږی نودا شامل دے درد سراودرد دَ خیټے اونورومرضونوته ﴿وَلَا هُمْ عَنْهَا يُنْزَفُوْنَ﴾ په معنیٰ دَ فساد دَ عقل دے په سبب دَ نشه کیدلو سره او دا تخصیص بعد التعمیم دے ځکه چه لفظ ﴿غَوْلٌ﴾ هم نشے ته شامل دے او نشه کیدل لوئے افت دے ﴿قٰصِرٰتُ الطَّرْفِ﴾ دا دَ زنانو بهترین صفت دے په دنیا اوآخرت کښ چه دَ خاوندانونه علاوه بل چاته سترګے نه اړوی ﴿بَيْضٌ مَّكْنُوْنٌ﴾ مراد دَ دے نه اګنے دَ شترمرغ ده چه پټه وی دَ خیرواودَغبارنه اومائله وی زیړوالی ته یا مراد دَ دے نه هغه اګنے ده چه روغه اوْیشولے شی اوبیا ترینه دَپاسه پوستکے لرے کړیشی نو لاندے صفا سپین وی۔ یا مراد دے نه مطلق اګنے ده چه پټه ساتلے شویوی او دَ زنانو تشبیه دَ هغے سره په

فَاَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ يَّتَسَآءَلُوْنَ ﴿٥٠﴾ قَالَ قَآئِلٌ مِّنْهُمْ اِنِّيْ كَانَ لِيْ قَرِيْنٌ ﴿٥١﴾ يَّقُوْلُ اَئِنَّكَ
لَمِنَ الْمُصَدِّقِيْنَ ﴿٥٢﴾ ءَاِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَّعِظَامًا ءَاِنَّا لَمَدِيْنُوْنَ ﴿٥٣﴾ قَالَ هَلْ اَنْتُمْ مُّطَّلِعُوْنَ ﴿٥٤﴾
فَاطَّلَعَ فَرَاٰهُ فِيْ سَوَآءِ الْجَحِيْمِ ﴿٥٥﴾ قَالَ تَاللّٰهِ اِنْ كِدْتَّ لَتُرْدِيْنِ ﴿٥٦﴾ وَلَوْلَا نِعْمَةُ رَبِّيْ لَكُنْتُ مِنَ
الْمُحْضَرِيْنَ ﴿٥٧﴾ اَفَمَا نَحْنُ بِمَيِّتِيْنَ ﴿٥٨﴾ اِلَّا مَوْتَتَنَا الْاُوْلٰى وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِيْنَ ﴿٥٩﴾ اِنَّ هٰذَا لَهُوَ الْفَوْزُ
الْعَظِيْمُ ﴿٦٠﴾ لِمِثْلِ هٰذَا فَلْيَعْمَلِ الْعٰمِلُوْنَ ﴿٦١﴾ اَذٰلِكَ خَيْرٌ نُّزُلًا اَمْ شَجَرَةُ الزَّقُّوْمِ ﴿٦٢﴾ اِنَّا جَعَلْنٰهَا فِتْنَةً
لِّلظّٰلِمِيْنَ ﴿٦٣﴾ اِنَّهَا شَجَرَةٌ تَخْرُجُ فِيْٓ اَصْلِ الْجَحِيْمِ ﴿٦٤﴾ طَلْعُهَا كَاَنَّهٗ رُءُوْسُ الشَّيٰطِيْنِ ﴿٦٥﴾ فَاِنَّهُمْ لَاٰكِلُوْنَ
مِنْهَا فَمَالِـُٔوْنَ مِنْهَا الْبُطُوْنَ ﴿٦٦﴾ ثُمَّ اِنَّ لَهُمْ عَلَيْهَا لَشَوْبًا مِّنْ حَمِيْمٍ ﴿٦٧﴾ ثُمَّ اِنَّ مَرْجِعَهُمْ لَاِلَى

نو مخامخ به شی بعض دَ دوی په بعضو باندے تپوسونه به کوی (٥٠) او به وائي یو ویونکے دَ دوی نه یقیناً وؤ ما لره یو ملګرے (٥١) هغه به وئیل چه ایا ته خامخا د منونکو نه ئیے (دَ توحید او دَقیامت) (٥٢) ایا چه مړه شو مونږ اوشو مونږ خاورے او هډوکی ایا مونږ له به جزا راکیدے شی (٥٣) اوبه وائي ایا تاسو ئیے وړښکاره کیدونکی(٥٤) نو ښکاره به شی نو اوبه وینی هغه لره په مینځ دَ دوزخ کښ (٥٥) ورته به وائي قسم دے په اللّٰه تعالیٰ باندے یقیناً نزدے وے ته چه ځه دے ارغړولے وے (٥٦) او که نه وے احسان دَ رب زما خامخا ځه به وے دَ حاضر کړے شوؤ نه په عذاب کښ (٥٧) ایا نه یو مونږ مړه کیدونکی (٥٨) مګر مرګ زمونږ دے پرومبے اونه یو مونږ عذاب راکړے شوی (٥٩) یقیناً دا خامخا کامیابی لویه ده (٦٠) د پاره دَ دغسے جزا پس عمل دِ کوی عمل کوؤنکی (٦١) ایا دا غوره دی په میلمستیا کښ او که اونه دَ زقوم (٦٢) یقیناً ګرځولے ده مونږ هغه امتحان دپاره دَ ظالمانو (٦٣) یقیناً هغه اونه ده چه را اوځی په ویخ دَ دوزخ کښ(٦٤) ځانګے دَ هغے ګویا کے چه سرونه دَ شیطانانو دی (٦٥) نو یقیناً دوی به خامخا خوری دَ هغے نه نو ډکوی به دَ هغے نه خیتے (٦٦) بیا به یقیناً دوی لره دَ هغے دپاسه ګډون وی دَ خوتکیدلو اوبونه (٦٧) بیا به یقیناً واپس کیدل دَ دوی خامخا

تناسب دَ اجزاؤ کښ ورکیدے شی۔ تردے ځائے پورے نعمتونه دَ خوراك او دَ رهائش او ځکاك او دَ بیبیانو په باره کښ ذکر شول۔

[دَ ٥٠نه تر٦١] پورے داهم په بشارت کښ داخل دے ځکه چه عذاب په دشمن باندے اوبچ کیدل دَ سبب دَ عذاب نه لویے نعمت دے ﴿قَرِيْنٌ﴾ دَ دے نه مراد مقابله کوؤنکے دے یوعمروالا همزولے ځکه چه قرین په اصل کښ یوڅرن والاته وئیلے کیږی ﴿نِعْمَةُ رَبِّيْ﴾ مراد دَ دے نه بچ کول دی دَ شرك او دَ انکار دَ قیامت نه او مضبوط والے دے په ایمان باندے ﴿لِمِثْلِ هٰذَا﴾ یعنی دَ دنیا دَ مقصدونواوشهواتودپاره محنت نه دے پکار بلکه دَ جنّت دَ نعمتونودَ حصول دَپاره کړاؤ ضروری دے۔

[دَ٦٢نه تر٦٨] پورے په دے ایاتونو کښ تخویف اخروی دے ﴿كَاَنَّهٗ رُءُوْسُ الشَّيٰطِيْنِ﴾ مراد دَ دے نه سرکش ماران دی چه هیبت ناك شکلونه لری یا مراد دَ دے نه ابلیس اودَ هغه اولاد دی اوهغوی اګرچه په

الْجَحِيْمِ ﴿٦٨﴾ اِنَّهُمْ اَلْفَوْا اٰبَآءَهُمْ ضَآلِّيْنَ ﴿٦٩﴾ فَهُمْ عَلٰٓى اٰثٰرِهِمْ يُهْرَعُوْنَ ﴿٧٠﴾ وَلَقَدْ ضَلَّ قَبْلَهُمْ اَكْثَرُ
الْاَوَّلِيْنَ ﴿٧١﴾ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا فِيْهِمْ مُّنْذِرِيْنَ ﴿٧٢﴾ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُنْذَرِيْنَ ﴿٧٣﴾ اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ
الْمُخْلَصِيْنَ ﴿٧٤﴾ وَلَقَدْ نَادٰىنَا نُوْحٌ فَلَنِعْمَ الْمُجِيْبُوْنَ ﴿٧٥﴾ وَنَجَّيْنٰهُ وَاَهْلَهٗ مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيْمِ ﴿٧٦﴾ وَجَعَلْنَا ع ٣

دوزخ دَ اورته وی (٦٨) یقیناً دوی موندلی وؤ مشران خپل ګمراهان (٦٩) نو دوی به دَ هغوی په قدمونو باندے زغلیدلے شول (٧٠) او یقیناً ګمراه شوی وؤ دَ دوی نه مخکښ ډیر دَ زړو خلقو نه (٧١) او یقیناً لیږلی وؤ مونږ په هغوی کښ ویره ورکوؤنکی (٧٢) نو اوګوره چه څه رنګے شو اخری انجام دَ ویره ورکړے شوو (٧٣) مګر بندګان دَ اللّٰه تعالیٰ چه بچ ساتلے شوی دی (٧٤) او یقیناً اواز راکړے وؤ مونږ ته نوح(علیه السلام) نو ډیر ښه جواب ورکوؤنکی وؤ (٧٥) او خلاص کړو مونږ دے او کورنئی دَ ده دَ غم لوے نه (٧٦) او اوګرځوؤ مونږ

اصل صورت اوشکل انسانانو لیدلی نه دی لیکن په عرف کښ مشهوردی په بدشکلئے سره ﴿فَمَالِـُٔوْنَ﴾ اشاره ده چه دا خوراك دَ مړه ولوفائده نه ورکوی لیکن صرف خیټه به ډکه وی اودَ ډکے خیټے نه ډیر تکلیفونه اومرضونه پیداکیږی ﴿ثُمَّ اِنَّ لَهُمْ عَلَيْهَا لَشَوْبًا مِّنْ حَمِيْمٍ﴾ یعنی دَ اوبو ګرموالے اوډاونے تریخوالے به دواړه ګدشی۔ یا داچه دا اوبه به دَ وینوزوؤدَجهنمیانوسره ګډے کړے شی ﴿ثُمَّ اِنَّ مَرْجِعَهُمْ﴾ هرکله چه دَ خوراك اوڅکاك طبقه په جهنّم کښ جدا ده اوپه اورسره دَ سوزیدلو طبقه(جحیم) جداده نودَ دے وجے نه ئے اوفرمائیل چه روستودَ خوراك اوڅکاك نه دَ دوی واپسی جحیم ته ده۔

[٦٩، ٧٠] په دے ایاتوکښ سبب ذکرکوی دَ عذاب سابق چه هغه تقلید دَ ګمراهانو دے بغیر دَ غور او فکر او دلیل نه۔

[٧١، ٧٢، ٧٣، ٧٤] دا تخویف دنیوی دے منکرینوته په عذابونودَ تیرشوی مکذبینوسره اوتسلّی ده رسول اللّٰه ﷺ ته په راتللودَعذاب سره په مخالفینوباندے اونجات موندلودَ مؤحدینوسره۔

[٧٥] دَ دے ایت نه تر(١٤٩) پورے دویم باب دے په دے کښ حالات دَ اوو پیغمبرانوذکرکوی چه دوی محتاج ووالله تعالیٰ ته اودَ هغه بندګان وؤلفظ دَنا ضمیرجمع متکلم (چه مرادترینه اللّٰه تعالیٰ دے) دَ دوی په واقعاتوکښ ذکرکوی اشاره ده چه دوی په دغه حالاتوکښ اللّٰه تعالیٰ ته محتاج وؤ۔ هغه انبیاء علیهم السلام نوح، ابراهیم، موسیٰ او هارون، الیاس، لوط اویونس علیهم السلام وو اوربط دَ دے دَ المخلصین سره دے چه هغه پیغمبران اودَ هغوی تابعداران وو ﴿نَادٰىنَا﴾ مراد دَ دے نه دعا ګانے دَ نوح(علیه السلام) دی چه په سورة نوح کښ تفصیلاً ذکرشویدی۔

[٧٦] دا دَ اجابت دَ دعایوه طریقه ده چه دَ غرق نه بچ کیدل دی یعنی په دے نعمت کښ اللّٰه تعالیٰ ته محتاج وو ﴿الْكَرْبِ الْعَظِيْمِ﴾ غرق کیدل دَ ټول قوم لوئے واړه داغټ غم دے یا مراد دَ دے نه عذاب دَ ورځ دَ قیامت دے۔

ذُرِّيَّتَهٗ هُمُ الْبٰقِيْنَ ﴿٧٧﴾ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي الْاٰخِرِيْنَ ﴿٧٨﴾ سَلٰمٌ عَلٰى نُوْحٍ فِي الْعٰلَمِيْنَ ﴿٧٩﴾ اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِي
الْمُحْسِنِيْنَ ﴿٨٠﴾ اِنَّهٗ مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٨١﴾ ثُمَّ اَغْرَقْنَا الْاٰخَرِيْنَ ﴿٨٢﴾ وَاِنَّ مِنْ شِيْعَتِهٖ لَاِبْرٰهِيْمَ ﴿٨٣﴾
اِذْ جَآءَ رَبَّهٗ بِقَلْبٍ سَلِيْمٍ ﴿٨٤﴾ اِذْ قَالَ لِاَبِيْهِ وَقَوْمِهٖ مَاذَا تَعْبُدُوْنَ ﴿٨٥﴾ اَئِفْكًا اٰلِهَةً دُوْنَ اللّٰهِ تُرِيْدُوْنَ ﴿٨٦﴾

اولاد دَ دهٔ باقی په دُنیا کښ (٧٧) او پریخودلے دے مونږ په دهٔ باندے په روستو خلقو کښ (٧٨) سلام دے په نوح(علیه السلام) باندے په عالمو کښ (٧٩) یقیناً مونږ دغه شان بدله ورکوؤ خائسه عمل کوؤنکو ته (٨٠) یقیناً دے دَ بندګانو زمونږ نه وؤ چه مؤمنان دی (٨١) بیا غرق کړل مونږ روستنی خلق (٨٢) او یقیناً دَ هغه ډلے نه خامخا ابراهیم(علیه السلام) وؤ(٨٣) کله چه راغے خپل رب ته په زړه روغ موټ (٨٤) کله چه اُوئیل ئے پلار خپل او قوم خپل ته دَ څه څیزونو عبادت کوئے تاسو (٨٥) ایا دروغ معبودان سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه غواړئے تاسو(٨٦)

[٧٧] دا بل انعام دے په نوح(علیه السلام) باندے چه په دے کښ هم هغهٔ اللّٰه تعالیٰ ته محتاج وؤ مراد دَ دے دا دے چه دَ نوح(علیه السلام) نه روستو ټولے دنیا والا اولاد دَ دهٔ دی اوپه دے کښ اشاره ده چه په کشتئ کښ صرف دَ دهٔ اولاد وؤاونورخلق ټول غرق شول۔ اودارنګ سورة یونس (٧٣) کښ تیرشویدی ۔ مفسرینو لیکلی دی چه دَ دهٔ درے ځامن بچ شول حام،سام، یافِث نودَ حام اولاد سندهـ،هند، نوب،زنج، حبش او قبط او بربر وغیره دی او دَ سام اولاد عرب،فارس، اوروم اوبنی اسرائیل وغیره دی او دَ یافث اولاد ترك، صقلب، یاجوج ماجوج۔

[٧٨،٧٩،٨٠،٨١،٨٢] په دے کښ نورانعامات ذکرکړے شوی دی﴿سَلٰمٌ﴾ معنیٰ دَ سلام دا ده چه دَ بد ذکرنه بچ اوسالم دے په روستوخلقوکښ ﴿اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ﴾ په دے کښ اشاره ده تسلّے دَ نبی ﷺ ته اودلیل دے چه سبب دَ دے انعاماتو احسان دَ نوح(علیه السلام) دے او احسان نه مراد دعوت الی الحق دے په اخلاص سره۔

[٨٣] دا دویمه واقعه ده دَ ابراهیم(علیه السلام) اودلیل نقلی دے په دے کښ ذکرډَ عبدیت دَ ابراهیم(علیه السلام) ذکرکوی په دوه طریقو سره، اول مجاهده کول په دعوت دَتوحیدکښ اوپه مصیبتونوباندے صبرکول دویم دَ اللّٰه تعالیٰ په امرسره خپل ځوئے قربانی کول۔ اوذکرکوی احتیاج دَ دهٔ اللّٰه تعالیٰ ته په سلامتیا اوبشارت اوبرکاتوکښ چه دے اللّٰه تعالیٰ ته محتاج وؤ۔

[٨٤] دا بیان دَ تابعدارئے دَ دهٔ دے ﴿سَلِيْمٍ﴾ خالی دَ شرك نه اودَ شبهاتودَ شرك نه اودَ میلان کولونه مشرکانوته۔مخلص په دعوت کولوکښ۔ ویره کوؤنکے دَ اللّٰه تعالیٰ نه چه رپیګی دَ ویرے دَ وجے نه لکه چه انسان اوچیچلے شی اورپیګی (داټول احتمالونه دی)۔

[٨٥] ﴿مَاذَا﴾مراد دَ دے نه تپوس کول دَ دلیل دَشرك دی اوطلب دَ وصف دَ معبودیت دے دَ دوی په معبودانو باطلوکښ۔

[٨٦] هرکله چه هغوی عاجزدی دَ ذکرډَ دلیل نه او دَ اثبات دَ وصف دَ معبودیت دَ هغوی نه نو ابراهیم(علیه السلام) ورته دا اُوئیل۔

فَمَا ظَنُّكُمْ بِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۸۷﴾ فَنَظَرَ نَظْرَةً فِي النُّجُوْمِ ﴿۸۸﴾ فَقَالَ اِنِّيْ سَقِيْمٌ ﴿۸۹﴾ فَتَوَلَّوْا عَنْهُ مُدْبِرِيْنَ ﴿۹۰﴾ فَرَاغَ اِلٰٓى
اٰلِهَتِهِمْ فَقَالَ اَلَا تَاْكُلُوْنَ ﴿۹۱﴾ مَا لَكُمْ لَا تَنْطِقُوْنَ ﴿۹۲﴾ فَرَاغَ عَلَيْهِمْ ضَرْبًا بِالْيَمِيْنِ ﴿۹۳﴾ فَاَقْبَلُوْٓا اِلَيْهِ يَزِفُّوْنَ ﴿۹۴﴾

نو څه ګمان دے ستاسو په رب دَ عالمینو باندے (۸۷) نو نظر ئے اوکړو یونظر په ستورو کښ (۸۸) نو اُوئیل ئے یقیناً څه ناجوړه یم (۸۹) نو روان شول دوی دَ هغه نه شاګرځوڼکی (۹۰) نو پټ راغے دَ دوی په معبودانو پسے نو اُوئیل ئے ایا نه خورئے تاسو (۹۱) څه وجه ده تاسو لره چه خبرے هم نه کوئے (۹۲) نو شروع شو په هغوی په وهلو سره په خی لاس باندے (۹۳) نو مخامخ شو هغه خلق دهٔ طرف ته منلے ئے وهلے (۹۴)

[۸۷] زجردے په شرك باندے بے دلیله په دے کښ توجیهات دی اوله دا ده ایاتاسو ګمان کوئے چه اللّٰه تعالیٰ دے عاجز مخلوق لره دَ ځان سره شریك کړے دے۔ دویمه توجیه دا ده ایاتا سو ګمان کوئے چه اللّٰه تعالیٰ دَجنس دَمخلوق نه دے چه تاسو دَ هغه تشبیه ورکوئے دَ مخلوق سره۔ دریمه توجیه په طریقه دَ تخویف سره یعنی تاسو په اللّٰه تعالیٰ باندے څه ګمان کوئے چه په حالت دَ شرك کښ مړه شئ او هغه ته به پیش شئے۔

[۸۸،۸۹،۹۰] مراد دا دے چه په رد دَ شرك دَ هغوی کښ استدلال ئے اوکړو یوځل استدلال دَ ستورونه او تفصیل دَ هغے په سورة انعام (۷۶) کښ تیرشوے دے۔ بیا ئے اُوئیل څه بیماریم یعنی زړه مِ خفه دے ستاسودَ شرك دَ وجے نه یا مراد دا دے چه دوی ورته دعوت ورکړو چه زمونږ دَ الهؤعرس دے مونږسره لاړشه چه زمونږاثرقبول کړے نوهغه دَ دوی دَ خبرواودَکارونو په مختلفوحصوکښ فکر اوچلوؤ دَپاره دَ دے چه ځان ترینه په څه بهانه سره پاتے کړی نو اوئیل ئے چه اِنِّیْ سَقِیْمٌ۔ یا مراد دا دے چه ستوروته ئے اوکتل په اراده دَ دے چه دَ اللّٰه تعالیٰ دَ قدرت نمونے دی لیکن دوی خیال اوکړو چه ابراهیم زمونږ په طریقے سره ستوروته کتلی دی۔ بنا په روستو توجیه سره دا توریه عملی ده او اِنِّیْ سَقِیْمٌ توریه قولی ده۔

[۹۱،۹۲] دا ذکرَ مجاهدے کولوَ ابراهیمؑ دے دَپاره دَ رد دَ شرك ۔ اوهغه قوم به دَ دے الهو په رواندے خوراکونه کیخودل دپاره دَ دے چه برکت پکښ پیداشی بیا به ئے لګ دَ هغے نه دَ تبرك دپاره ځان له راوړو او باقی به ئے منجورانوته پریخودو نو ابراهیمؑ په دے خطابونو کښ دا خبره ثابته کړه چه دوی خوراك اوخبرے نشی کولے نو دوی دَ عبادت لائق نه دی او دا خطابونه اګرچه بتانوته دی لیکن الزام دے په دغه مشرکانو باندے۔

[۹۳] ﴿بِالْيَمِيْنِ﴾ نه خی لاس مراد دے ځکه چه په هغے کښ قوت ډیروی یا قسم مراد دے هغهٔ چه سورة انبیاء (۷۵) کښ ذکردے اوبا سببیه ده۔

[۹۴] ﴿يَزِفُّوْنَ﴾ په تیزئے سره راتلل په ابراهیمؑ پسے روستوَ خبریدلوَ دوی په دے واقعه باندے یا مراد دا دے چه په تکبرسره راتلل دَ زفاف دَ ناوے نه ماخوذ دے۔

قَالَ اَتَعْبُدُوْنَ مَا تَنْحِتُوْنَ ﴿٩٥﴾ وَاللّٰهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿٩٦﴾ قَالُوا ابْنُوْا لَهٗ بُنْيَانًا فَاَلْقُوْهُ فِي الْجَحِيْمِ ﴿٩٧﴾
فَاَرَادُوْا بِهٖ كَيْدًا فَجَعَلْنٰهُمُ الْاَسْفَلِيْنَ ﴿٩٨﴾ وَقَالَ اِنِّيْ ذَاهِبٌ اِلٰى رَبِّيْ سَيَهْدِيْنِ ﴿٩٩﴾ رَبِّ هَبْ لِيْ مِنَ
الصّٰلِحِيْنَ ﴿١٠٠﴾ فَبَشَّرْنٰهُ بِغُلٰمٍ حَلِيْمٍ ﴿١٠١﴾ فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ السَّعْيَ قَالَ يٰبُنَيَّ اِنِّيْٓ اَرٰى فِي الْمَنَامِ اَنِّيْٓ

أوئيل ئے ايا بندگی کوئے تاسو دَ هغه ځيزونو چه په لاسونو ئے کنستل کوئے (٩٥) او الله تعالی پيداکړی ئے تاسو او ستاسو عملونه (٩٦) أوئيل دوی جوړ کړئے دَ دهٔ دپاره ابادی نو اوغورځوئے دهٔ لره په اور کښ (٩٧) نو او غوښتلو دوی(چه اوکړی) هغه سره چل ول نو اوګرځول مونږ دوی ذليلان (٩٨) أوئيل هغه يقيناً ځه ځمه طرف دَ رب خپل ته خامخا ماته به لار اوخائی (٩٩) اے ربه زما اوبخے ماته (ولد) دَ نيکانونه (١٠٠) نو زيرے ورکړو مونږ هغه ته په هلك صبر ناك سره (١٠١) نو هر کله چه اورسيدلو دَ هغه سره کار کولو ته أوئيل هغه اے ځويه زما يقيناً ځه وينم په خوب کښ چه

[٩٥،٩٦] دارد دے دَ هغوی په شرك باندے په دوه طريقوسره اوله طريقه ﴿تَنْحِتُوْنَ﴾ يعنی تاسودا بتان دَ لرګواوګټو وغيره نه په خپلولاسونوجوړ کړيدی نوهغه دَ عبادت حق دارنشی کيدے اوپه دے کښ هغه قبرونه هم داخل دی چه په چونه او سيمټو سره پاخه کړے شوی وی او ډولی کړے شوی وی۔ اوبياورته سجدے لګوی اوحاجات ترينه غواړی ۔ دويمه طريقه ﴿وَمَا تَعْمَلُوْنَ﴾ يعنی ستاسواوستاسودَعملونوخالق صرف الله تعالیٰ دے اوپه دے کښ دا معبودان باطله اودَ هغوی بندگی کول هم داخل دی اودا دليل دَ اهل سنت والجماعة دے په دے عقيده باندے چه الله تعالیٰ خالق دَ هرعمل دے که خيروی اوکه شروی او اختياری وی اوکه غير اختياری وی۔

[٩٧،٩٨] هرکله چه دَ دوی سره دليل نوؤپه شرك باندے نودَ ظلم لارئے اختياركړه او مشوره ئے اوکړه چه يو لويه ابادی (دَ تنورپه شکل باندے) جوړه کړئے، نوهغه ئے جوړه کړه او دَ خشاك نه ئے ډکه کړه او اورئے پکښ بل کړو او ابراهيم عليه السلام ئے پکښ اوغورځوؤ او دے ټولے کارنامے ته ئے ﴿كَيْدًا﴾ اوئيل ليکن هرکله چه په دليل هم دوی پره شول او اور ئے بے اثره شو دَ دے وجے نه ئے اوئيل ﴿الْاَسْفَلِيْنَ﴾ اوهرکله چه مال اوخشاك او وخت ئے بے فائدے شول نو دے ته ئے په سورة انبياء (٧٠) کښ الاخسرين وئيلی وؤ۔

[٩٩] په دے کښ دوه اقوال دی اول داچه اورته ئے بوتللونوداکلمه ئے اويله نومعنیٰ دا ده ځه روان يم هغه ځيزته چه رب زما مقررکړے دے زردے چه مالره به طريقه دَنجات جوړه کړی، دويم قول دا دے چه روستودَ بچ کيدلودَ اورنه عزم دَ هجرت ئے اوکړو۔

[١٠٠،١٠١] هرکله چه دَ دين دَ بقا دَپاره دَ اولا ضرورت دے چه دَ دين دعوت جاری او ساتلے شی دَ دے وجے نه دَ ځوئيی په باره کښ ئے دعا او غوښتله اوهغه دعا قبوله شوه او لفظ ﴿حَلِيْمٍ﴾ کښ اشاره ده چه دے به بلوغ ته ور رسيږی ځکه صفت دَ صبر دَ بالغانو په مدح کښ وئيلے کيږی۔

اَذْبَحُكَ فَانْظُرْ مَاذَا تَرٰى ؕ قَالَ يٰۤاَبَتِ افْعَلْ مَا تُؤْمَرُ ۫ سَتَجِدُنِيْۤ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ مِنَ الصّٰبِرِيْنَ ﴿۱۰۲﴾ فَلَمَّاۤ اَسْلَمَا
وَتَلَّهٗ لِلْجَبِيْنِ ﴿۱۰۳﴾ وَنَادَيْنٰهُ اَنْ يّٰۤاِبْرٰهِيْمُ ﴿۱۰۴﴾ قَدْ صَدَّقْتَ الرُّءْيَا ۚ اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۱۰۵﴾
اِنَّ هٰذَا لَهُوَ الْبَلٰٓؤُا الْمُبِيْنُ ﴿۱۰۶﴾ وَفَدَيْنٰهُ بِذِبْحٍ عَظِيْمٍ ﴿۱۰۷﴾ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي الْاٰخِرِيْنَ ﴿۱۰۸﴾ سَلٰمٌ عَلٰۤى

ذبح کوؤم تا نو سوچ اوکړه چه څه رائے لرے هغه اُوئیل اے پلاره زما اوکړه هغه چه تاته څه حکم کیدیشی زر ده اوبه مومے ته ما لره که چرے اللّٰه تعالیٰ اوغواړی دَ صبر ناکونه (۱۰۲) نو هر کله چه غاړه کیخودله دواړو حکم دَ اللّٰه تعالیٰ ته اوځملوئے هغه لره په اړخ دَ سر باندے (۱۰۳) او اواز ورکړو مونږ هغه ته چه اے ابراهیم (۱۰۴) یقیناً رشتینے کړو تا خوب لره یقیناً دغه شان بدله ورکوو مونږ خائسته عمل کوؤنکو ته (۱۰۵) یقیناً دا خامخا ازمیښت ښکاره وؤ (۱۰۶) او بدله ورکړه مونږ هغه ته یو حلال شوے لوے (۱۰۷) او پریخودلو مونږ په هغه باندے په روستنو خلقو کښ (۱۰۸) (داچه) سلام دے په

[۱۰۲] دَ دے آیت نه دَ بلے ابتلاء دَ ابراهیم علیه السلام واقعه ذکر کوی ﴿السَّعْیَ﴾ یعنی داسے عمرته او رسیدلو چه دَ پلار سره کاروبار ئے کولے شو او عبادت ئے هم کولے شو اوپه داسے عمرکښ دَ اولاد مرګ دَ ډیرغم سبب وی ﴿اَرٰی فِی الْمَنَامِ﴾ دا دلیل دے چه رویا دَ انبیاء علیهم السلام قطعی وحی ده چه په هغے باندے عمل کول فرض دی۔ (بحث دَ ذبیح) اختلاف دے دَ اهل علمو چه ذبیح اسماعیل علیه السلام دے او که اسحاق علیه السلام دے په دے کښ درے قولونه دی (۱) اول قول دَ توقف دے زجاج وغیره دَ دلیلونو دَ تعارض دَ وجے نه په دے کښ توقف کړے دے (۲) دویم قول داچه اسحاق علیه السلام دے او دا روایت دے دَ عبد اللّٰه بن مسعود رضی الله عنه اوابن عباس رضی الله عنه اوعلی بن ابی طالب رضی الله عنه اودَعباس رضی الله عنه اوعکرمه رضی الله عنه اوسعید بن جبیر رضی الله عنه اومجاهد اوشعبی وغیرهم نه، او داغوره کړے دے ابن جریر او قرطبی۔ مفسر ابن کثیر فرمائیلی دی چه دغه ټول اقوال په اصل کښ نقل دی دَ کعب الاحبارنه دَ هغهٔ نه به صحابه کراموا وتابعینو نقل کوودَ روایاتِ اسرائیلو اوامام بخاری ذکر کړی دی چه دَ دهٔ په روایتونو کښ اکثردروغ وؤ (۳) دریم قول دا دے چه ذبیح اسماعیل علیه السلام دے او دا قول دَ عبد اللّٰه بن عمر رضی اللّٰه عنهما او ابی هریرة رضی الله عنه او علی رضی الله عنه او ابوالطفیل او سعید بن مسیب وغیرهم دے اواکثر مفسرینو محدثینو دا قول صحیح ګرځولے دے۔

[۱۰۳، ۱۰۴، ۱۰۵] ﴿اَسْلَمَا﴾ دواړه حکم دَ اللّٰه تعالیٰ ته تابع شول یعنی ابراهیم علیه السلام اسباب دَ ذبح کولو تیارکړل او اسماعیل علیه السلام مذبوحیت دَپاره تیار شو ﴿لِلْجَبِیْنِ﴾ جبین دَ تندی هردواړو طرفونوته وئیلے کیږی او جبهه تندی ته وئیلے کیږی یعنی په اړخ باندے واچوؤ لکه چه ذبح کولو دپاره عامه طریقه ده۔

[۱۰۶] ﴿الْبَلٰٓؤُا﴾ په معنیٰ دَ امتحان او ابتلاء دے او دا معنیٰ ظاهره ده یاپه معنیٰ دَ نعمت او احسان دے او هذا اشاره ده روستو آیت ته یعنی بدله په ګټه سره۔

[۱۰۷] ﴿وَفَدَیْنٰهُ﴾ فدیه ورکول دَ یوبندیوان دَ خلاصولو دَپاره وی یعنی ابراهیم علیه السلام ځوئیی لره نه پریخودلو لیکن مونږ ترینه په فدیه سره خلاص کړو ﴿عَظِیْمٍ﴾ یعنی قدر اومرتبه ئے لویه وه ځکه چه دَ لوئے سړی په بدله کښ ئے لوئے سړی لره ورکړواوهغه یوګټه وؤچه اللّٰه تعالیٰ دَ غیبونه را اولیږلو او ابراهیم علیه السلام

اِبْرٰهِيْمَ ﴿١٠٩﴾ كَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ ﴿١١٠﴾ اِنَّهٗ مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿١١١﴾ وَبَشَّرْنٰهُ بِاِسْحٰقَ نَبِيًّا مِّنَ
الصّٰلِحِيْنَ ﴿١١٢﴾ وَبٰرَكْنَا عَلَيْهِ وَعَلٰٓى اِسْحٰقَ ؕ وَمِنْ ذُرِّيَّتِهِمَا مُحْسِنٌ وَّظَالِمٌ لِّنَفْسِهٖ مُبِيْنٌ ﴿١١٣﴾ وَلَقَدْ مَنَنَّا ع
عَلٰى مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ ﴿١١٤﴾ وَنَجَّيْنٰهُمَا وَقَوْمَهُمَا مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيْمِ ﴿١١٥﴾ وَنَصَرْنٰهُمْ فَكَانُوْا هُمُ الْغٰلِبِيْنَ ﴿١١٦﴾
وَاٰتَيْنٰهُمَا الْكِتٰبَ الْمُسْتَبِيْنَ ﴿١١٧﴾ وَهَدَيْنٰهُمَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ ﴿١١٨﴾ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِمَا فِى الْاٰخِرِيْنَ ﴿١١٩﴾ سَلٰمٌ
عَلٰى مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ ﴿١٢٠﴾ اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ ﴿١٢١﴾ اِنَّهُمَا مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿١٢٢﴾ وَاِنَّ اِلْيَاسَ لَمِنَ

ابراهيم(عليه السلام) باندے (١٠٩) دغه شان بدله ورکوو مونږ خائسته عمل والو ته (١١٠) یقیناً دے وؤ زمونږ دَ بندګانو مؤمنانونه (١١١) او زیرے ورکړومونږ دهٔ ته په اسحاق(عليه السلام) سره نبی وؤ دَ نیکانو نه وؤ(١١٢) او برکتونه واچول مونږ په هغه باندے او په اسحاق(عليه السلام) باندے او دَ اولاد دَ دواړو نه څوك خائسته عمل والا دی او څوك ظلم کوی په خپل ځان باندے ښکاره (١١٣) او یقیناً احسان کړیوؤ مونږ په موسیٰ(عليه السلام) او هارون(عليه السلام) باندے (١١٤) او خلاص کړل مونږ دوی او قوم دَ دوی دَ غم لوئے نه (١١٥) او مدد اوکړو مونږ دَ دوی سره نو دوی شول زورآور (١١٦) او ورکړو مونږ دوی ته کتاب ښه ښکاره حکمونو والا (١١٧) او پاخه کړی مو وؤ دوی دواړه په لاره نیغه باندے (١١٨) او پریخودلے وؤ مونږ په دے دواړو باندے په روستو خلقو کښ (١١٩) سلام دے په موسیٰ(عليه السلام) او هارون(عليه السلام) باندے (١٢٠) یقیناً دغه شان بدله ورکوؤ مونږ خائسته عمل والوته (١٢١) یقیناً دا دواړه زمونږ دَ بندګانو مؤمنانو نه وؤ (١٢٢) او یقیناً الیاس(عليه السلام) خامخا دَ

ته امر اوشوچه دے ذبح کړه دا دلیل دے چه قربانی کول په ګڼه سره افضل دی۔ اوبعض مفسرینو وئیلی دی چه دا قربانی کول چه سنّت دَ ابراهیم(عليه السلام) په ټولو امتونو کښ جاری دے دا ذبح عظیم ده۔

[١٠٨، ١٠٩، ١١٠، ١١١] په دے ایاتونوکښ ذکرکړے دے احتیاج دَ ابراهیم(عليه السلام) الله تعالیٰ ته په سلامتیا اوجزا کښ او ذکر دے عبدیت دَ هغهٔ دپاره دَ الله تعالیٰ۔

[١١٢] دا دویم بشارت دے معلومه شوه چه اول بشارت په اسماعیل(عليه السلام) سره وؤ۔

[١١٣] اشاره ده چه دوی په برکاتوکښ الله تعالیٰ ته محتاج وؤ۔ دَ برکت نه چه روستوعلی راشی نودلالت کوی چه اثر دَ دے برکاتوپه ظاهرکښ هم دے لکه چه په باطن کښ دے اوفیه چه راشی نو دلالت کوی په برکاتو باطنیو باندے ﴿وَمِنْ ذُرِّيَّتِهِمَا﴾ یعنی دَ دوی اولاد دوه ډلے دی مؤحدین اوغیرمؤحدین اوپه دے کښ اشاره ده چه پیداکیدل دّپیغمبرانودّپلاردّپاره سبب دَ نجات نه دے کله چه هغه ظالم اومشرك وی او دارنګ مشرك اوظالم کیدل دَ اولاد پلارته نقصان نه رسوی کله چه هغه پخپله صالح وی۔

[دَ ١١٤نه تر١٢٢پورے] دا دریمه قصه ده په دے کښ ذکرکوی احتیاج دَ موسیٰ او هارون علیهما السلام په ټولونعمتونو اوکمالاتوکښ الله تعالیٰ ته۔ اول احسان دّنبوت دویم نجات دَ غرق نه دریم نصرت اوغلبه څلورم کتاب الله پنځم هدایت دَ صراط مستقیم شپږم ثناءِ حسن اوسلامتیا اووم جزاء دَ احسان اواخلاص اوپه اخرکښ ذکردے عبدیت خاصه دَ دے دواړو، نو دا دلیل دے چه دوی شفعاء شرکیه

الْمُرْسَلِيْنَ ﴿١٢٣﴾ اِذْ قَالَ لِقَوْمِهٖٓ اَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿١٢٤﴾ اَتَدْعُوْنَ بَعْلًا وَّتَذَرُوْنَ اَحْسَنَ الْخَالِقِيْنَ ﴿١٢٥﴾ اَللّٰهَ رَبَّكُمْ وَرَبَّ
اٰبَآئِكُمُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿١٢٦﴾ فَكَذَّبُوْهُ فَاِنَّهُمْ لَمُحْضَرُوْنَ ﴿١٢٧﴾ اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ الْمُخْلَصِيْنَ ﴿١٢٨﴾ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي الْاٰخِرِيْنَ ﴿١٢٩﴾
سَلٰمٌ عَلٰٓى اِلْ يَاسِيْنَ ﴿١٣٠﴾ اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ ﴿١٣١﴾ اِنَّهٗ مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿١٣٢﴾ وَاِنَّ لُوْطًا لَّمِنَ
الْمُرْسَلِيْنَ ﴿١٣٣﴾ اِذْ نَجَّيْنٰهُ وَاَهْلَهٗٓ اَجْمَعِيْنَ ﴿١٣٤﴾ اِلَّا عَجُوْزًا فِي الْغٰبِرِيْنَ ﴿١٣٥﴾ ثُمَّ دَمَّرْنَا الْاٰخَرِيْنَ ﴿١٣٦﴾ وَاِنَّكُمْ لَتَمُرُّوْنَ

رسولانو نه وؤ (١٢٣) کله چه اُوئیل ئے قوم خپل ته ایا نه بچ کیږئ دَ شرك نه (١٢٤) ایا رابلئے تاسو په حاجتونو کښ بعل لره او پریږدئے تاسوخائسته دَ شکل جوړوؤنکو نه (٢٥) چه اللّٰه دے رب ستاسو او رب دَ مشرانو ستاسو پخوانو دے (١٢٦) نو دروغژن ئے اُوئیل هغه ته نو یقیناً دوی به خامخا حاضر کړیشی په عذاب کښ (١٢٧) مګر بندګان دَ اللّٰه تعالیٰ بچ ساتلے شوی (١٢٨) او پریخودومونږ په دۀ باندے په روستو خلقو کښ (١٢٩) سلام دے په الیاسین(علیه السلام) باندے (١٣٠) یقیناً دغه شان بدله ورکوو مونږ خائسته عمل والو ته (١٣١) یقیناً دے زمونږ دَ بندګانو مؤمنانو نه وؤ (١٣٢) او یقیناً لوط(علیه السلام) وؤ خامخا دَ رسولانو نه (١٣٣) کله چه خلاصے ورکړو مونږ دۀ لره او کورئے دَ دۀ ټولو لره (١٣٤) مګر بوډئے وه په پاتے کیدونکو کښ (١٣٥) بیا تباه کړل مونږ نور خلق (١٣٦) او یقیناً تاسو ورتیریږئے

(الهه) نشی کیدلے ﴿الْمُسْتَبِيْنَ﴾ چه پوره نور پکښ وی اوجامع وی دَ علومو او حکمتونونه اوهغه تورات وؤ۔

[دَ١٢٣نه تر١٣٢] پورے داخلورمه قصه ده ۔ په دے کښ ذکرکوی عبدیت دَ الیاس علیه السلام په طریقه دَ دعوت کولو دَ هغۀ توحید ته او رد کول په شرك باندے اوبیا ذکرکوی احتیاج دَ دۀ اللّٰه تعالیٰ ته په ثناءِ حسن اوسلامتیاکښ او اخرکښ ذکر کوی عبدیت خاصه دَ دۀ ﴿وَاِنَّ اِلْيَاسَ﴾ اتفاق دے دَ مفسرینو چه دا رسول وؤ په بنی اسرائیلو کښ هرکله چه هغوی په شرك کښ اخته شول نو اللّٰه تعالیٰ دے رسول را ولیږو اودَ عکرمه او ابن مسعود رضی الله عنهما نه نقل دی چه دَ دۀ نوم ادریس وؤ نوکیدے شی چه الیاس ئے لقب وی او ادریس ئے عَلَم وی یا په عکس سره او دَ دۀ په باره کښ چه کوم حدیث قرطبی اونورو ذکر کړے دے چه هغه ژوندے دے او دَ رسول اللّٰه ﷺ ورسره ملاقات شویدے نو سیوطی دَ امام ذهبی نه نقل کړی دی چه دا حدیث موضوعی دے دارنګ حدیث دَ ژوند دَخضراودَ الیاس علیهما السلام صوفیاؤ بے سنده ذکرکړے دے ﴿بَعْلًا﴾ مفسرینولیکلی دی چه بعل بُت (شکل) دَ سڼے وؤدَ سرو زرونه ئے جوړکړے وؤاوشل ذِراعه اوګد وؤ اودَ هغے څلورسوره منجوران خدمتګاران وو اوشیطان به کله کله په هغه بُت کښ دننه داخل شو او دَ دوی سره به ئے دَ ګمراهیۀ خبرے کولے او (بَكٌ) دَ هغه ځائے بادشاه وؤ او دَ خپل ښار نوم ئے بعلبك کیخودلے وؤ۔

[دَ١٣٣نه تر١٣٨] پورے دا پنځمه قصه ده په دے کښ احتیاج دَ لوط علیه السلام ذکرکوی په خپل نجات کښ اودَ اهل په نجات کښ اوپه هلاکت دَ قوم کښ سرۀ دَ زجراوتخویف نه منکرینوته ﴿مُصْبِحِيْنَ وَبِالَّيْلِ﴾ په دے کښ خطاب دے اهل مکه ته چه هرکله به دوی شام ته تلل په سفر دَ تجارت سره نو چه دَ مکے نه به مابښام روان شول نو صبائي وخت کښ به کلو دَ قوم لوط علیه السلام ته او رسیدل اوکه صبا وخت په

عَلَيْهِمْ مُّصْبِحِيْنَ ﴿١٣٧﴾ وَبِالَّيْلِ ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿١٣٨﴾ وَاِنَّ يُوْنُسَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿١٣٩﴾ اِذْ اَبَقَ اِلَى الْفُلْكِ
الْمَشْحُوْنِ ﴿١٤٠﴾ فَسَاهَمَ فَكَانَ مِنَ الْمُدْحَضِيْنَ ﴿١٤١﴾ فَالْتَقَمَهُ الْحُوْتُ وَهُوَ مُلِيْمٌ ﴿١٤٢﴾ فَلَوْلَاۤ اَنَّهٗ كَانَ مِنَ
الْمُسَبِّحِيْنَ ﴿١٤٣﴾ لَلَبِثَ فِيْ بَطْنِهٖۤ اِلٰى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ ﴿١٤٤﴾ فَنَبَذْنٰهُ بِالْعَرَآءِ وَهُوَ سَقِيْمٌ ﴿١٤٥﴾ وَاَنْۢبَتْنَا عَلَيْهِ شَجَرَةً
مِّنْ يَّقْطِيْنٍ ﴿١٤٦﴾ وَاَرْسَلْنٰهُ اِلٰى مِائَةِ اَلْفٍ اَوْ يَزِيْدُوْنَ ﴿١٤٧﴾ فَاٰمَنُوْا فَمَتَّعْنٰهُمْ اِلٰى حِيْنٍ ﴿١٤٨﴾ فَاسْتَفْتِهِمْ اَلِرَبِّكَ

پە دوی باندے دَ صبا پە وخت کښ (١٣٧) او دَ شپے ایا نو دَ عقل نه کار نه اخلئ تاسو (١٣٨) او یقیناً یونس(علیه السلام) خامخا دَ رسولانو نه وؤ (١٣٩) کله چه لاړ(بے اجازته) کشتئ ډکے کړے شوے ته (١٤٠) نو خسنړے اوکړو نو شو دَ پرې شوؤ نه (١٤١) نو تیر کړه دهٗ لره مهی او دے وؤ ځان ملامته کوؤنکے (١٤٢) نو که چرے نه وے دے دَ تسبیح ویونکو نه (١٤٣) نو حصار شوے به وؤ په خیټه دَ مهی کښ تر ورځے دَ دوباره ژوند پورے (١٤٤) نو اوغورځوؤ مونږ دهٗ لره په ډاګه باندے او دے ناجوړه وؤ (١٤٥) او را اوټوکوله مونږ په دهٗ باندے اونه دَ قِسم دَ کدو نه (١٤٦) او اولیږلو مونږ دے یولاکهٔ خلقو ته بلکه زیاتیدل (١٤٧) نو ایمان راوړو هغوی نو مزے ورکړے مونږ هغوی ته تریو وخت پورے (١٤٨) پس ته تپوس اوکړه دَ دوی نه ایا ستا رب لره

ئے سفر شروع کړونو دَ شپے وخت کښ به هلته او رسیدل۔

[دَ١٣٩نه١٤٨] پورے دا شپږمه قِصّه ده اوپه دے کښ ذکرکوی تفصیلی حال دَ یونس(علیه السلام) په بیان دَ عبدیت دَ هغهٗ په پنځه طریقو سره: رسول وؤ، بے اجازته تلے وؤ، خسنړی اچولو کښ پرشو، مهی(کب) تیرکړو، تسبیح ئے وئیله او احتیاج دَ دهٗ ئے ذکرکړے دے په ځلوروطریقوسره۔ راویستل دَخیټے دَمهی نه، اونه دَ هغه دَپاسه زرغونه ول بیا لیږل په رسالت سره، متاع ورکول نو داټول دلیلونه دی چه یونس(علیه السلام) دَ اللّٰه تعالیٰ سره شریك نه شی کیدلے اونه شفیع قهری کیدے شی ﴿اَبَقَ﴾ بغیر دَ اجازت دَ مولیٰ نه تللو ته اباق وئیلے کیږی۔ دے هم هرکله چه نا امیده شو دَ ایمان دَ قوم نه او وخت دَ عذاب دَ هغوی هم نزدے شونو اجتهادئیے اوکړو چه پیغمبران خو دَ قوم دَ عذاب په وخت کښ دَ هغه کلی نه اوځی نو دے دَ دے وجے نه دَ هغه کلی نه بهرلاړواودَ اللّٰه تعالیٰ دَخاص حکم انتظارئیے اونکړونویو کشتئ کښ سورشو چه په هغے کښ سورلے ډیرے وے هرکله چه کشتئ دَ دریاب مینځ ته اورسیدله نودَ ډیردروندوالی دَ وجے نه غرقیدلوته نزدے شوه۔ نوکشتئ والو فیصله اوکړله چه دَ دے نه یوه سورلے کمه ول ضروری دی چه کشتئ سپکه شی نو دَ دریاب په مینځ کښ دَ کشتئ نه غورځولوته هیڅوك تیارنه وو نو دوی اتفاق اوکړو چه قرعه اندازی به اوکړو چه دَ چاقرعه را اوځی نو هغه به مجبوراً دَ کشتئ نه اوغورځوونوقرعه دَ یونس(علیه السلام) راووتله دا مطلب دے دَ دے قول فساهم فکان من المدحضین، ﴿الْمُسَبِّحِيْنَ﴾ مراد دا دے چه دے دَ مخکښ وخت نه ډیر ذکرکوؤنکے وؤ نو دا مصداق دے چه اذکروا اللّٰه فی الرخاء یذکرکم فی الشدة (یاد وئ اللّٰه تعالیٰ لره په حالت دَ فراخئ کښ نواللّٰه تعالیٰ به یادکړی تاسو په سختئ کښ) یا مراد دا دے چه دَ مهی په خیټه کښ لااله الاانت سبحانك ذکر ئے کولو اوپه دے کښ ترغیب دے ذکرکولو دَ اللّٰه

الْبَنَاتُ وَلَهُمُ الْبَنُوْنَ ﴿١٤٩﴾ اَمْ خَلَقْنَا الْمَلٰٓئِكَةَ اِنَاثًا وَّهُمْ شٰهِدُوْنَ ﴿١٥٠﴾ اَلَآ اِنَّهُمْ مِّنْ اِفْكِهِمْ لَيَقُوْلُوْنَ ﴿١٥١﴾
وَلَدَ اللّٰهُ ۙ وَاِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ﴿١٥٢﴾ اَصْطَفَى الْبَنَاتِ عَلَى الْبَنِيْنَ ﴿١٥٣﴾ مَا لَكُمْ ۫ كَيْفَ تَحْكُمُوْنَ ﴿١٥٤﴾ اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ﴿١٥٥﴾
اَمْ لَكُمْ سُلْطٰنٌ مُّبِيْنٌ ﴿١٥٦﴾ فَاْتُوْا بِكِتٰبِكُمْ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿١٥٧﴾ وَجَعَلُوْا بَيْنَهٗ وَبَيْنَ الْجِنَّةِ نَسَبًا ۭ وَلَقَدْ عَلِمَتِ الْجِنَّةُ
اِنَّهُمْ لَمُحْضَرُوْنَ ﴿١٥٨﴾ سُبْحٰنَ اللّٰهِ عَمَّا يَصِفُوْنَ ﴿١٥٩﴾ اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ الْمُخْلَصِيْنَ ﴿١٦٠﴾ فَاِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُوْنَ ﴿١٦١﴾ مَآ اَنْتُمْ

لونړه دی او دوی لره ځامن دی (١٤٩) ایا پیدا کړیدی مونږ ملائك زنانه او دوی حاضر وؤ (١٥٠) خبرشئے یقیناً دوی دَ وجے دَ دروغو دَ دوی نه خامخا وائي (١٥١) ولدنیولے دے اللّٰه تعالیٰ او یقیناً دوی خامخا دروغژن دی (١٥٢) ایا غوره کړی دی اللّٰه تعالیٰ لونړه په ځامنو باندے (١٥٣) څه دلیل دے ستاسو څه رنګ فیصلے کوئے تاسو (١٥٤) ایا نو تاسو نصیحت نه اخلئے (١٥٥) یا تاسو لره شته دلیل ښکاره (١٥٦) نوراوړئے کتاب ستاسو که چرے تاسو رشتینی ئیے (١٥٧) او جوړ کړے دے دوی په مینځ دَ اللّٰه تعالیٰ او دَ پیریانوکښ نسب او یقیناً پوهیږی پیریان چه دوی به خامخا حاضر کړے شی په عذاب کښ (١٥٨) پاك دے اللّٰه تعالیٰ دَهغے نه چه دوی بیانوی (١٥٩) مګر بندګان دَ اللّٰه تعالیٰ چه بچ ساتلے شویدی (١٦٠) نو یقیناً تاسو او هغه کسان چه تاسو بندګی کوئے دَ هغوی (١٦١) نه ئے تاسو

تعالیٰ ته په کثرت سره په هر حالت کښ اوپه سبب دَ هغے سره مصیبتونه دفع کیږی ﴿سَقِيْمٌ﴾ چه بدن ئیے بیماروی لکه بچے چه دَ مورنه پیداشی اوبدن ئیے کچه وی ﴿وَاَرْسَلْنٰهُ اِلٰى مِائَةِ اَلْفٍ﴾ په دے کښ مقصد دوباره واپس رالیږل دی خپل قوم ته اګرچه دے دَ مخکښ نه هم رسول وؤ او کوم روایت چه بعض مفسرینو نقل کړے چه دے دَ کب دَ خیټے دَ رواتلونه روستو رسول کړے شو دا روایت ضعیف دے په هغے کښ شهربن حوشب راوی دے او هغه متروك او ضعیف دے ﴿فَاٰمَنُوْا﴾ مراد دا دے چه یونس علیه السلام واپس راغے نو دوی تفصیلی ایمان راوړو او مخکښ ئیے صرف اجمالی ایمان راوړے وؤ۔

[دَ١٤٩نه تر١٥٧] پورے دَ دے نه دریم باب دے ترآخرډَ سورة پورے په دے کښ رد دے په مشرکین بالملائکه باندے او مشرکین بالجن باندے بیا بیان دَ ملائکو دے په طریقه دَ رد په عابدانو دَ دوی باندے او زجردے منکرینو ته او بشارت دے او تسلّی ده رسول اللّٰه ﷺ ته سرهٔ دَ تخویف دَ منکرینونه اوپه آخر کښ دعویٰ دَ توحید ده او دعویٰ دَ سورة ده په ذکر دَ احتیاج دَ رسولانو اللّٰه تعالیٰ ته په سلامتیاکښ۔ دا(١٤٩) متعلق دے دَ ابتدا دَ سورة سره او رد دے دَ مشرکین بالملائکه په درے عقیدو باندے اول تقسیم چه اللّٰه تعالیٰ لره بنات (لونړه) ثابتوی او دَ ځان دَپاره ځامن۔ دویم ملائکو ته مونث وائي۔ دریم ملائك دَ اللّٰه تعالیٰ لونړه ګنړی یعنی هغهٔ لره ولد ثابتوی ﴿مَالَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُوْنَ﴾ دا مطالبه دَ دلیل عقلی ده دَ دوی نه یعنی عقل خودانه منی چه اللّٰه تعالیٰ چه افضل نوع (نارینه اولاد) پریږدی اولونړه دِ غوره کوی دا فیصله بے دلیله ده ﴿اَمْ لَكُمْ سُلْطٰنٌ مُّبِيْنٌ﴾ په دے کښ طلب دَ دلیل نقلی دے دَ تیرشوو انبیاء علیهم السلام نه ﴿فَاْتُوْا بِكِتٰبِكُمْ﴾ په دے کښ مطالبه دَ دلیل وحی ده ځکه چه مراد دَ کتاب نه کتاب دَ اللّٰه تعالیٰ دے۔

[١٥٨،١٥٩،١٦٠] په دے ایاتونو کښ رد دے په مشرکین بالجن باندے یعنی هغه خلق چه جنّات ئیے دَ اللّٰه تعالیٰ سره شریکان ګنړلی دی په صفاتو دَ علم غیب اوپناهی ورکولو کښ اوپه عبادت کولو کښ لکه

عَلَيْهِ بِفٰتِنِيْنَ ﴿١٦٢﴾ اِلَّا مَنْ هُوَ صَالِ الْجَحِيْمِ ﴿١٦٣﴾ وَمَا مِنَّآ اِلَّا لَهٗ مَقَامٌ مَّعْلُوْمٌ ﴿١٦٤﴾ وَّاِنَّا لَنَحْنُ الصَّآفُّوْنَ ﴿١٦٥﴾ وَاِنَّا
لَنَحْنُ الْمُسَبِّحُوْنَ ﴿١٦٦﴾ وَاِنْ كَانُوْا لَيَقُوْلُوْنَ ﴿١٦٧﴾ لَوْ اَنَّ عِنْدَنَا ذِكْرًا مِّنَ الْاَوَّلِيْنَ ﴿١٦٨﴾ لَكُنَّا عِبَادَ اللّٰهِ الْمُخْلَصِيْنَ ﴿١٦٩﴾
فَكَفَرُوْا بِهٖ فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ ﴿١٧٠﴾ وَلَقَدْ سَبَقَتْ كَلِمَتُنَا لِعِبَادِنَا الْمُرْسَلِيْنَ ﴿١٧١﴾ اِنَّهُمْ لَهُمُ الْمَنْصُوْرُوْنَ ﴿١٧٢﴾ وَاِنَّ

په هغے باندے گمراه کوؤنکی چا لره (١٦٢) مګر هغه چا لره چه هغه داخلیدونکے وی اورته (١٦٣) او نیشته زمونږ نه هیڅوك مګر هغه دپاره ځائے معلوم دے (١٦٤) او یقیناً مونږ خامخا صفونه جوړ ووؤ (١٦٥) او یقیناً مونږ تسبیح ویونکی یو (١٦٦) او ووؤ دوی خامخا وئیل به ئیے (١٦٧) که چرے وے زمونږ سره یاد داشت دَ مخکنو (١٦٨) خامخا وے به مونږ بندګان دَ اللّٰه تعالیٰ بچ ساتلے شوی دَ ګناه نه (١٦٩) نو انکار اوکړو دوی دَهغه ذکر نو زرده چه دوی به پوهه شی (١٧٠) او یقیناً مخکښ شویده وعده زمونږ دَ بندګانو زمونږ سره چه رسولان دی (١٧١) یقیناً خامخا دوی سره به مدد کیدے شی (١٧٢) او یقیناً

چه سورة سبا اوسورة جن نه معلومیږی اوبعضِ مفسرینو وئیلی دی چه دارد دے په مجوسیانوباندے چه هغوی وئیلی دی چه اللّٰه تعالیٰ اوشیطان (ابلیس) دواړه رونړه دی یوخاوند دَخیردے اوبل خاوند دَشردے نودَ نسباً نه مراد په اوله توجیه باندے نسبت دَ شرکت دے او دا قول دَ حسن بصری نه نقل دے اوپه دویمه توجیه باندے اخوت(رورولی) مراد ده۔

[١٦١،١٦٢،١٦٣] دا تفریع ده په ما قبل باندے یعنی هرکله چه ملائك او انبیاء علیهم السلام او جنات عاجز او محتاج مخلوق دے نو دوی او تاسو هیڅالره نه شئ ګمراه کولے یعنی عقل والا پوهیږی چه دا عاجز مخلوق دَ اللّٰه تعالیٰ شریك نشی کیدلے لیکن څوك چه اللّٰه تعالیٰ دَ هغه دَ پاره جحیم مقررکړے وی نو هغه به ګمراه اومشرك شی۔ او دَ دے اياتونونه معلومه شوه چه هدایت او ضلال په اختیار دَ اللّٰه تعالیٰ کښ دے۔

[١٦٤،١٦٥،١٦٦] دا دلیل نقلی دے دَملائکونه یعنی ستاسومعبودان دَ ګمراه کولونه عاجزدی ځکه چه هغوی بذاتِ خود اللّٰه تعالیٰ ته عاجزی کوی اودلته عبارت کښ تقدیردے یعنی تقول الملائکة اودا رد دے په مشرکین بالملائکه باندے پشان دَ ابتداء دَسورة ﴿مَقَامٌ مَّعْلُوْمٌ﴾ حدیث دَ ترمذی نه ثابت ده چه په اسمانونو کښ دَ سپك او دَ لیشت ځائے هم خالی نیشته بلکه په هغے باندے ملك ولاړ دے یا سجده کوؤنکے دے۔

[١٦٧،١٦٨،١٦٩،١٧٠] دا زجردے مشرکینوته روستو دَ اثبات دَ حجت نه په هغوی باندے ﴿ذِكْرًا مِّنَ الْاَوَّلِيْنَ﴾ مراد دَ دے نه واقعات او قصّے دَ تیرشوو انبیاء علیهم السلام دی لکه چه په دے سورة کښ ذکر شول نو دَ دوی تمناً پوره شوه بیاهم ایمان نه راوړی۔

[١٧١،١٧٢،١٧٣] دَ زجراو دَ تخویف دَ منکرینونه روستو بشارت دنیویه دے رسولانو او مؤمنانوته۔

سوال: په قرآن کریم کښ لس اياتونو کښ دَ قتل دَ انبیاؤ ذکرپه طریقه دَ اخبارسره موجود دے نو دا خو دَ نصرت او دَ غلبے سره منافی ده؟

جواب: دَ دے په ډیرو وجوهو سره دے۔ اول: خطیب شربینی او نورو مفسرینوذکرکړی دی "چه نصرت اوغلبه کله کله په حجت سره وی اوکله کله په دولت او استیلاء سره وی اوکله کله په دوام او اثبات دَ دین

جُنْدَنَا لَهُمُ الْغٰلِبُوْنَ ﴿١٧٣﴾ فَتَوَلَّ عَنْهُمْ حَتّٰى حِيْنٍ ﴿١٧٤﴾ وَّاَبْصِرْهُمْ فَسَوْفَ يُبْصِرُوْنَ ﴿١٧٥﴾ اَفَبِعَذَابِنَا يَسْتَعْجِلُوْنَ ﴿١٧٦﴾
فَاِذَا نَزَلَ بِسَاحَتِهِمْ فَسَآءَ صَبَاحُ الْمُنْذَرِيْنَ ﴿١٧٧﴾ وَتَوَلَّ عَنْهُمْ حَتّٰى حِيْنٍ ﴿١٧٨﴾ وَّاَبْصِرْ فَسَوْفَ يُبْصِرُوْنَ ﴿١٧٩﴾
سُبْحٰنَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُوْنَ ﴿١٨٠﴾ وَسَلٰمٌ عَلَى الْمُرْسَلِيْنَ ﴿١٨١﴾ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٨٢﴾ ع

لښکرې زمونږ خامخا دوی به غالب وی (۱۷۳) نو مخ واړوه دَ دوی نه تریو وخت پورې (۱۷٤) او ګوره دوی ته زر دے دوی به هم اوګوری (۱۷۵) ایا عذاب زمونږ په تادئے سره غواړئے (۱۷٦) نو کله چه را کوزشی دَ دوی په میدانونو باندے نو بد دے صبا دَ ویره ولے شوؤ خلقو (۱۷۷) او مخ ترینه واړوه تر یو وخت پورے (۱۷۸) او ګوره زر دے دوی به هم اوګوری (۱۷۹) پاکی ده رب ستا لره چه رب دَ عزت دے دَ هغے نه چه دوی بیانوی (۱۸۰) او سلام دے (دَ طرف دَ اللّٰه تعالیٰ نه) په رسولانو باندے (۱۸۱) او صفتونه دَ خدائے دی اللّٰه تعالیٰ لره چه رب دَ عالمینو دے (۱۸۲)

سره وی پس مؤمن اګرچه مغلوب وی په بعض اوقاتو کښ په سبب دَ ضعف دَ احوالو دَ دنیا خودے به غالب وی په آخرت کښ نوحکم په اعتبار دَ اغلب سره دے نو دا منافی نه دے دَ قتل دَ بعضِ انبیاؤ او دَ هزیمت دَ ډیرو مؤمنانو سره" (ترجمه عبارت سراج المنیر) دویم جواب دادے چه دا وعده دَ رسولانو دَ اصحابو دَ شرائعو سره ده او قتل دَ انبیاء یعنی غیر اصحاب الشرائع ثابت دے او دا قول دَ حسن بصری نه قرطبی نقل کړے دے او دَ دے وجے نه دَ نصرت په ایاتونوکښ لفظ دَ رسولاً ذکرکړے دے او دَ قتل په ایاتونو کښ صفت دَ نبوّت ذکر دے او دا غوره جواب دے۔ ځوک چه دَ دے ایاتونو دَ نصرت په بنا دَ پیغمبرانو دَ قتل نه مطلقا انکار کوی او دَ قتل دَ ایاتونوتاویلونه کوی نودا تحریف معنوی سره مشابهت دے قرآن دَ داسے بعید تاویلونونه برئ دے اوحدیث هم په دے باب کښ صریح دے۔ (اشد الناس عذابا یوم القیامة من قتل نبیاً او قتله نبی) [نهایه ابن اثیر: ج:٤/ص:١٣]

[١٧٤، ١٧٥] روستودَ بشارت نه دا تسلّی ده۔

[١٧٦، ١٧٧] هرکله چه دَ عذاب ذکراوشونو منکرینو استهزاء شروع کړه چه عذاب ډزر راشی نو په هغے باندے زجر دے او تخویف دے ﴿بِسَاحَتِهِمْ﴾ ساحة په اصل کښ صحن دَ کورته وائی مراد ترینه عذاب راتلل دی ناساپه په داسے طریقے سره چه دَ خلاصی روتریے نه مومی ﴿صَبَاحُ﴾ اکثر عذابونه دَ اللّٰه تعالیٰ په وخت دَ صبا کښ راغلی دی چه په دغه مبارك وخت کښ دا منکرین غافل وی۔

[١٧٨، ١٧٩] په دے کښ هم تسلّی ده لیکن اول کښ دَ حینٍ نه مراد عذاب دَ دنیا وؤ او دلته عذاب اخروی مراد دے نو تکرار نیشته۔

[١٨٠، ١٨١، ١٨٢] دا تفریع ده په کل سورة باندے اودعوی دَ توحید ده یعنی هرکله چه دَ ملائکو او دَ انبیاء علیهم السلام او دَ جناتو عجز او احتیاج ثابت شو نو معلومه شوه چه دوی دَ اللّٰه تعالیٰ سره شریك نشی کیدے او شفعاء قهریه هم نشی کیدے دا مراد دے دَ تسبیح نه ﴿وَسَلٰمٌ عَلَى الْمُرْسَلِيْنَ﴾ دا دعوی دَ سورة ده یعنی دَ انبیاء علیهم السلام کمال دا دے چه هغوی له سلامتیا دَعذاب دَ دنیا اودَ آخرت نه اللّٰه تعالیٰ ورکوی۔ ﴿وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ﴾ داهم دعوی دَ توحید ده اشاره ده چه هلاکت دَ کافرانو اونصرت دَ پیغمبرانو

سُوْرَةُ صٓ (۳۸) مَكِّيَّةٌ (۳۸) بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ اٰيَاتُهَا ۸۸ رُكُوْعَاتُهَا ۵

صٓ وَالْقُرْاٰنِ ذِي الذِّكْرِ ۝۱ بَلِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فِيْ عِزَّةٍ وَّشِقَاقٍ ۝۲ كَمْ اَهْلَكْنَا مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنْ قَرْنٍ

صٓ، قسم دے په قرآن باندے چه نصیحت والا دے (۱) بلکه کافران په تکبّر او دُشمنئ کښ دی (۲) ډیر هلاك کړی دی مونږ مخکښ دَ دوی نه پیړۍ

(بقیه تفسیر دَ سورة الصّٰفّٰت) چه په دے سورة کښ ذکرشوپه دے باندے دَ اللّٰه تعالیٰ حمد دے او دانعمتونه دی دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه۔

سورة صٓ

ربط: دَدے سورة دَماقبل سره په ډیروطریقوسره دے یوطریقه داده تیرشوی سورة کښ عجزاواحتیاج دَنیکانوبندګانوذکرکړے شونوپه دے سورة کښ په هغوی باندے ابتلاء ات ذکرکوی دپاره دَ دلالت په دے خبره باندے چه دوی شفعاء قهریه نشی کیدے۔

دعویٰ دَ سورة: اثبات دَتوحیدپه ذکرد ابتلاء اتوسره په انبیاء اوملائك علیهم السلام باندے سره دَ ابتلاء نه په ابلیس باندے۔ اودعویٰ دَ توحید(٦٥،٦٦)کښ اودا ابتلائات تفصیلیه ئیے درے پیغمبرانوباندے ذکرکړی دی اوله ابتلاء په باره دَ اجتهادی خطائے کولوسره په احکام شرعیوکښ اوهغه ګناه نه دے دویمه ابتلاء په ترك دَ انشاء اللّٰه تعالیٰ نسیاناً اوهغه ګناه نه دے دریمه ابتلاء بدنی اومالی دپاره دَ ابتلاء دَ صبراګرچه هیڅ ګناه ئیے نه دے کړے او دا درے انبیاء علهم السلام دَ روم په علاقه باندے تیرشویدی اولنی دواړه دَ نبوت دَ صفت سره بادشاهان هم وو او دریم دَ صفت دَ نبوت سره مالدار وؤ۔

خلاصه دَ سورة :دا سورة تقسیم دے درے بابونوته اول باب تر(۱۸) پورے دے په دیکښ اولأشهادت دَ قرآن کریم او تخویف ذکرکوی بیا زجرونه په انکار دَ ځلورو مقصدونو سره انکار دَ توحید او دَ رسالت او دَ قرآن او بعث بعد الموت نه او زجر دے په اسبابو دَ انکار سره او دَ تخویف دنیوی دَپاره ذ کر دے دَ اقوامِ مکذبو اجمالاً۔

تفسیر

[۲،۱] ﴿صٓ﴾ دَمقطعاتونه دے اودَ دے په باره کښ مفسرینودیارلس اقوال ذکرکړی دی لیکن غوره داده چه دَ دے په معنیٰ باندے اللّٰه تعالیٰ عالم دے اولوئے حکمت پکښ دلیل اوتنبیه ده په اعجازدَ قرآن کریم باندے ﴿ذِي الذِّكْرِ﴾ یعنی مشتمل دے په بیان دَ توحید اونورو اوامراونواهی دَ اللّٰه تعالیٰ باندے۔ مراد دَ ﴿عِزَّةٍ﴾ نه ځان عزت مندګنړل اودَ هغے په وجه دَ حق منلونه تکبّرکول او شِقَاقٍ نه مراد دَ حق نه مخالفت کول په سبب دَ ضد او عناد سره۔

فَنَادَوْا وَّلَاتَ حِيْنَ مَنَاصٍ ۝٣ وَعَجِبُوْٓا اَنْ جَآءَهُمْ مُّنْذِرٌ مِّنْهُمْ ۫ وَقَالَ الْكٰفِرُوْنَ هٰذَا سٰحِرٌ كَذَّابٌ ۝٤
اَجَعَلَ الْاٰلِهَةَ اِلٰهًا وَّاحِدًا ۚ اِنَّ هٰذَا لَشَيْءٌ عُجَابٌ ۝٥ وَانْطَلَقَ الْمَلَاُ مِنْهُمْ اَنِ امْشُوْا وَاصْبِرُوْا عَلٰٓى اٰلِهَتِكُمْ ۚ
اِنَّ هٰذَا لَشَيْءٌ يُّرَادُ ۝٦ مَا سَمِعْنَا بِهٰذَا فِي الْمِلَّةِ الْاٰخِرَةِ ۚ اِنْ هٰذَآ اِلَّا اخْتِلَاقٌ ۝٧ ءَاُنْزِلَ عَلَيْهِ الذِّكْرُ

نو چغے اووهلے هغوی او نه وؤ دغه وخت دَ خلاصی (۳) او تعجب کوی دوی دَ دے نه چه راغلے دے دوی ته ویره ورکوؤنکے دَ دوی نه او اوئیل کافرانو دا جادوګر ډیر دروغژن دے (٤) ایا جوړ کړے دی ده ډیر معبودانو لره معبود یو یقیناً دا څیز ډیر نا اشنا دے (٥) او روانه شوه یوه ډله دَ دوی نه چه ځئے او کلك شئے په (بندګئے) دَ خپلو معبودانو باندے یقیناً دا خامخا یو کار دے چه قصد کړے شویدے (٦) نه دی اوریدلی مونږ دا په دین روستنی کښ نه دی دا مګر دروغ جوړ کړیشوی (۷) ایا نازل کړے شویده په دهٔ باندے وحی

[۳] دا تخویف دنیوی دے شقاق کوؤنکوته روستودَ زجرنه هغوی ته ﴿فَنَادَوْا﴾ اوازونه اوچت کړل په توبه او استغفار کولو سره یا په فریادونو او مدد غوښتلو سره ﴿مَنَاصٍ﴾ په معنیٰ دَ روستوالی دَ عذاب اوپه معنیٰ دَ تختیدلو او په معنیٰ دَ خلاصی سره دے۔

[٤] دا تفصیل دَ تکبراودَ شقاق دَ دوی دے او زجردے په انکار دَ رسالت سره ﴿مُّنْذِرٌ مِّنْهُمْ﴾ یعنی بشردے دَ جنس دَ دوی نه نودوی دَ هغه دَ رسالت نه تعجب اوکړو لکه سورهٔ یونس(۲) کښ دی ﴿وَقَالَ الْكٰفِرُوْنَ﴾ په دے لفظ کښ اشاره ده چه پیغمبرلره دروغژن ګنړونکے یقینی کافردے اومراد دَکافرنه انکار کوؤنکے دے په ضد اوعناد سره ﴿كَذَّابٌ﴾ یعنی په مسئله توحیدکښ اوپه دعویٰ دَ نبوت کښ دروغژن دے۔

[٥] دا زجردے په انکاردَ توحید سره۔ اول ذکردَ تعجب وؤدَ دعویٰ دَنبوت نه سرهٔ دَ بشریت نه اودا تعجب دے دَ مسئلے دَ توحیدنه اول تعجب کول خفیف وو۔ او دویم تعجب ډیر ثقیل دے ۔ مقصد دا دے چه مشرکانو دَ هرحاجت روائیے دَپاره او دَ هر قوم دَپاره جدا جدا معبود اوحاجت روا جوړکړے وؤ عقیده ئیے داوه چه یوذات دا ټول کارونه نشی کولے او قیاس ئیے کوؤ په مخلوق باندے نو پیغمبرتوحیدته دعوت ورکړو یعنی ټول حاجتونه پوره کوؤنکے او دَ ټول مخلوق الله یو اللّٰه تعالیٰ دے نو دوی دَ دے نه تعجب اوکړو او انکار ئیے اوکړو، دا دَ دوی لویه بے عقلی او جهل دے۔

[٦] روستودَ انکار دَ توحیدنه په شرك باندے کلك کیدل ذکرکوی ﴿امْشُوْا﴾ مراد دَ دے نه دَ مجلس دَ توحیدنه تلل دی یا روانیدل دی همیشه په لاردَ شرك باندے اوزمخشری وئیلی دی چه مراد دَ دے دا دے چه کښرِاوډیرراغونډ شئے دپاره دَ مقابلے دَ پیغمبر ﴿اِنَّ هٰذَا﴾ اشاره ده توحید ته یعنی دَ دے نبی مراد زمونږدا دے چه توحید اومنو۔ یا اشاره ده صبرکولوته په شرك باندے یعنی دَ شرك کولو اوپه دے باندے دَ کلك پاتے کیدلو اراده کول پکار دی۔

[۷] داوجه دَ تعجب اودَ انکار ده چه دوی دَ مشرانونه دامسئله نه ده اوریدلے ﴿الْمِلَّةِ الْاٰخِرَةِ﴾ مراد دَ دے نه عام دے یعنی دَ دوی مشران او دارنګ متأخرین نصاریٰ او یهودیان ځکه چه دے ټولودَ توحیدنه انکار کړے وؤ اوتوحید ئیے نه وؤبیان کړے لکه اوس زمانه کښ هم جاهلان وائی چه مونږ(مسئله دَ

مِنۢ بَيۡنِنَا ؕ بَلۡ هُمۡ فِىۡ شَكٍّ مِّنۡ ذِكۡرِىۡ ۚ بَلۡ لَّمَّا يَذُوۡقُوۡا عَذَابِ ؕ﴿۸﴾ اَمۡ عِنۡدَهُمۡ خَزَآئِنُ رَحۡمَةِ رَبِّكَ
الۡعَزِيۡزِ الۡوَهَّابِ ۚ﴿۹﴾ اَمۡ لَهُمۡ مُّلۡكُ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَا فَلۡيَرۡتَقُوۡا فِى الۡاَسۡبَابِ ﴿۱۰﴾ جُنۡدٌ مَّا هُنَالِكَ
مَهۡزُوۡمٌ مِّنَ الۡاَحۡزَابِ ﴿۱۱﴾ كَذَّبَتۡ قَبۡلَهُمۡ قَوۡمُ نُوۡحٍ وَّعَادٌ وَّفِرۡعَوۡنُ ذُو الۡاَوۡتَادِ ﴿۱۲﴾ وَثَمُوۡدُ وَقَوۡمُ لُوۡطٍ وَّاَصۡحٰبُ
لۡـ۱۶ لۡـ۱۷ لۡـ۱۸ لۡـ۱۹ لۡـ۲۰ لۡـ۲۱ لۡـ۲۲ لۡـ۲۳ لۡـ۲۴ لۡـ۲۵ لۡـ۲۶ لۡـ۲۷ لۡـ۲۸ لۡـ۲۹ لۡـ۳۰ لۡـ۳۱ لۡـ۳۲ لۡـ۳۳ لۡـ۳۴ لۡـ۳۵ لۡـ۳۶ لۡـ۳۷ لۡـ۳۸ لۡـ۳۹ لۡـ۴۰ لۡـ۴۱ لۡـ۴۲ لۡـ۴۳ لۡـ۴۴ لۡـ۴۵ لۡـ۴۶ لۡـ۴۷ لۡـ۴۸ لۡـ۴۹ لۡـ۵۰ لۡـ۵۱ لۡـ۵۲ لۡـ۵۳ لۡـ۵۴ لۡـ۵۵ لۡـ۵۶ لۡـ۵۷ لۡـ۵۸ لۡـ۵۹ لۡـ۶۰ لۡـ۶۱ لۡـ۶۲ لۡـ۶۳ لۡـ۶۴ لۡـ۶۵ لۡـ۶۶ لۡـ۶۷ لۡـ۶۸ لۡـ۶۹ لۡـ۷۰ لۡـ۷۱ لۡـ۷۲ لۡـ۷۳ لۡـ۷۴ لۡـ۷۵ لۡـ۷۶ لۡـ۷۷ لۡـ۷۸ لۡـ۷۹ لۡـ۸۰ لۡـ۸۱ لۡـ۸۲ لۡـ۸۳ لۡـ۸۴ لۡـ۸۵ لۡـ۸۶ لۡـ۸۷ لۡـ۸۸ لۡـ۸۹ لۡـ۹۰ لۡـ۹۱ لۡـ۹۲ لۡـ۹۳ لۡـ۹۴ لۡـ۹۵ لۡـ۹۶ لۡـ۹۷ لۡـ۹۸ لۡـ۹۹ لۡـ۱۰۰ لۡـ۱۰۱ لۡـ۱۰۲ لۡـ۱۰۳ لۡـ۱۰۴ لۡـ۱۰۵ لۡـ۱۰۶ لۡـ۱۰۷ لۡـ۱۰۸ لۡـ۱۰۹ لۡـ۱۱۰ لۡـ۱۱۱ لۡـ۱۱۲ لۡـ۱۱۳ لۡـ۱۱۴ لۡـ۱۱۵ لۡـ۱۱۶ لۡـ۱۱۷ لۡـ۱۱۸ لۡـ۱۱۹ لۡـ۱۲۰ لۡـ۱۲۱ لۡـ۱۲۲ لۡـ۱۲۳ لۡـ۱۲۴ لۡـ۱۲۵ لۡـ۱۲۶ لۡـ۱۲۷ لۡـ۱۲۸ لۡـ۱۲۹ لۡـ۱۳۰ لۡـ۱۳۱ لۡـ۱۳۲ لۡـ۱۳۳ لۡـ۱۳۴ لۡـ۱۳۵ لۡـ۱۳۶ لۡـ۱۳۷ لۡـ۱۳۸ لۡـ۱۳۹ لۡـ۱۴۰ لۡـ۱۴۱ لۡـ۱۴۲ لۡـ۱۴۳ لۡـ۱۴۴ لۡـ۱۴۵ لۡـ۱۴۶ لۡـ۱۴۷ لۡـ۱۴۸ لۡـ۱۴۹ لۡـ۱۵۰ لۡـ۱۵۱ لۡـ۱۵۲ لۡـ۱۵۳ لۡـ۱۵۴ لۡـ۱۵۵ لۡـ۱۵۶ لۡـ۱۵۷ لۡـ۱۵۸ لۡـ۱۵۹ لۡـ۱۶۰ لۡـ۱۶۱ لۡـ۱۶۲ لۡـ۱۶۳ لۡـ۱۶۴ لۡـ۱۶۵ لۡـ۱۶۶ لۡـ۱۶۷ لۡـ۱۶۸ لۡـ۱۶۹ لۡـ۱۷۰ لۡـ۱۷۱ لۡـ۱۷۲ لۡـ۱۷۳ لۡـ۱۷۴ لۡـ۱۷۵ لۡـ۱۷۶ لۡـ۱۷۷ لۡـ۱۷۸ لۡـ۱۷۹ لۡـ۱۸۰ لۡـ۱۸۱ لۡـ۱۸۲ لۡـ۱۸۳ لۡـ۱۸۴ لۡـ۱۸۵ لۡـ۱۸۶ لۡـ۱۸۷ لۡـ۱۸۸ لۡـ۱۸۹ لۡـ۱۹۰ لۡـ۱۹۱ لۡـ۱۹۲ لۡـ۱۹۳ لۡـ۱۹۴ لۡـ۱۹۵ لۡـ۱۹۶ لۡـ۱۹۷ لۡـ۱۹۸ لۡـ۱۹۹ لۡـ۲۰۰ لۡـ۲۰۱ لۡـ۲۰۲ لۡـ۲۰۳ لۡـ۲۰۴ لۡـ۲۰۵ لۡـ۲۰۶ لۡـ۲۰۷ لۡـ۲۰۸ لۡـ۲۰۹ لۡـ۲۱۰ لۡـ۲۱۱ لۡـ۲۱۲ لۡـ۲۱۳ لۡـ۲۱۴ لۡـ۲۱۵ لۡـ۲۱۶ لۡـ۲۱۷ لۡـ۲۱۸ لۡـ۲۱۹ لۡـ۲۲۰ لۡـ۲۲۱ لۡـ۲۲۲ لۡـ۲۲۳ لۡـ۲۲۴ لۡـ۲۲۵ لۡـ۲۲۶ لۡـ۲۲۷ لۡـ۲۲۸ لۡـ۲۲۹ لۡـ۲۳۰ لۡـ۲۳۱ لۡـ۲۳۲ لۡـ۲۳۳ لۡـ۲۳۴ لۡـ۲۳۵ لۡـ۲۳۶ لۡـ۲۳۷ لۡـ۲۳۸ لۡـ۲۳۹ لۡـ۲۴۰ لۡـ۲۴۱ لۡـ۲۴۲ لۡـ۲۴۳ لۡـ۲۴۴ لۡـ۲۴۵ لۡـ۲۴۶ لۡـ۲۴۷ لۡـ۲۴۸ لۡـ۲۴۹ لۡـ۲۵۰ لۡـ۲۵۱ لۡـ۲۵۲ لۡـ۲۵۳ لۡـ۲۵۴ لۡـ۲۵۵ لۡـ۲۵۶ لۡـ۲۵۷ لۡـ۲۵۸ لۡـ۲۵۹ لۡـ۲۶۰ لۡـ۲۶۱ لۡـ۲۶۲ لۡـ۲۶۳ لۡـ۲۶۴ لۡـ۲۶۵ لۡـ۲۶۶ لۡـ۲۶۷ لۡـ۲۶۸ لۡـ۲۶۹ لۡـ۲۷۰ لۡـ۲۷۱ لۡـ۲۷۲ لۡـ۲۷۳ لۡـ۲۷۴ لۡـ۲۷۵ لۡـ۲۷۶ لۡـ۲۷۷ لۡـ۲۷۸ لۡـ۲۷۹ لۡـ۲۸۰ لۡـ۲۸۱ لۡـ۲۸۲ لۡـ۲۸۳ لۡـ۲۸۴ لۡـ۲۸۵ لۡـ۲۸۶ لۡـ۲۸۷ لۡـ۲۸۸ لۡـ۲۸۹ لۡـ۲۹۰ لۡـ۲۹۱ لۡـ۲۹۲ لۡـ۲۹۳ لۡـ۲۹۴ لۡـ۲۹۵ لۡـ۲۹۶ لۡـ۲۹۷ لۡـ۲۹۸ لۡـ۲۹۹ لۡـ۳۰۰ لۡـ۳۰۱ لۡـ۳۰۲ لۡـ۳۰۳ لۡـ۳۰۴ لۡـ۳۰۵ لۡـ۳۰۶ لۡـ۳۰۷ لۡـ۳۰۸ لۡـ۳۰۹ لۡـ۳۱۰ لۡـ۳۱۱ لۡـ۳۱۲ لۡـ۳۱۳ لۡـ۳۱۴ لۡـ۳۱۵ لۡـ۳۱۶ لۡـ۳۱۷ لۡـ۳۱۸ لۡـ۳۱۹ لۡـ۳۲۰ لۡـ۳۲۱ لۡـ۳۲۲ لۡـ۳۲۳ لۡـ۳۲۴ لۡـ۳۲۵ لۡـ۳۲۶ لۡـ۳۲۷ لۡـ۳۲۸ لۡـ۳۲۹ لۡـ۳۳۰ لۡـ۳۳۱ لۡـ۳۳۲ لۡـ۳۳۳ لۡـ۳۳۴ لۡـ۳۳۵ لۡـ۳۳۶ لۡـ۳۳۷ لۡـ۳۳۸ لۡـ۳۳۹ لۡـ۳۴۰ لۡـ۳۴۱ لۡـ۳۴۲ لۡـ۳۴۳ لۡـ۳۴۴ لۡـ۳۴۵ لۡـ۳۴۶ لۡـ۳۴۷ لۡـ۳۴۸ لۡـ۳۴۹ لۡـ۳۵۰ لۡـ۳۵۱ لۡـ۳۵۲ لۡـ۳۵۳ لۡـ۳۵۴ لۡـ۳۵۵ لۡـ۳۵۶ لۡـ۳۵۷ لۡـ۳۵۸ لۡـ۳۵۹ لۡـ۳۶۰ لۡـ۳۶۱ لۡـ۳۶۲ لۡـ۳۶۳ لۡـ۳۶۴ لۡـ۳۶۵ لۡـ۳۶۶ لۡـ۳۶۷ لۡـ۳۶۸ لۡـ۳۶۹ لۡـ۳۷۰ لۡـ۳۷۱ لۡـ۳۷۲ لۡـ۳۷۳ لۡـ۳۷۴ لۡـ۳۷۵ لۡـ۳۷۶ لۡـ۳۷۷ لۡـ۳۷۸ لۡـ۳۷۹ لۡـ۳۸۰ لۡـ۳۸۱ لۡـ۳۸۲ لۡـ۳۸۳ لۡـ۳۸۴ لۡـ۳۸۵ لۡـ۳۸۶ لۡـ۳۸۷ لۡـ۳۸۸ لۡـ۳۸۹ لۡـ۳۹۰ لۡـ۳۹۱ لۡـ۳۹۲ لۡـ۳۹۳ لۡـ۳۹۴ لۡـ۳۹۵ لۡـ۳۹۶ لۡـ۳۹۷ لۡـ۳۹۸ لۡـ۳۹۹ لۡـ۴۰۰ لۡـ۴۰۱ لۡـ۴۰۲ لۡـ۴۰۳ لۡـ۴۰۴ لۡـ۴۰۵ لۡـ۴۰۶ لۡـ۴۰۷ لۡـ۴۰۸ لۡـ۴۰۹ لۡـ۴۱۰ لۡـ۴۱۱ لۡـ۴۱۲ لۡـ۴۱۳ لۡـ۴۱۴ لۡـ۴۱۵ لۡـ۴۱۶ لۡـ۴۱۷ لۡـ۴۱۸ لۡـ۴۱۹ لۡـ۴۲۰ لۡـ۴۲۱ لۡـ۴۲۲ لۡـ۴۲۳ لۡـ۴۲۴ لۡـ۴۲۵ لۡـ۴۲۶ لۡـ۴۲۷ لۡـ۴۲۸ لۡـ۴۲۹ لۡـ۴۳۰ لۡـ۴۳۱ لۡـ۴۳۲ لۡـ۴۳۳ لۡـ۴۳۴ لۡـ۴۳۵ لۡـ۴۳۶ لۡـ۴۳۷ لۡـ۴۳۸ لۡـ۴۳۹ لۡـ۴۴۰ لۡـ۴۴۱ لۡـ۴۴۲ لۡـ۴۴۳ لۡـ۴۴۴ لۡـ۴۴۵ لۡـ۴۴۶ لۡـ۴۴۷ لۡـ۴۴۸ لۡـ۴۴۹ لۡـ۴۵۰ لۡـ۴۵۱ لۡـ۴۵۲ لۡـ۴۵۳ لۡـ۴۵۴ لۡـ۴۵۵ لۡـ۴۵۶ لۡـ۴۵۷ لۡـ۴۵۸ لۡـ۴۵۹ لۡـ۴۶۰ لۡـ۴۶۱ لۡـ۴۶۲ لۡـ۴۶۳ لۡـ۴۶۴ لۡـ۴۶۵ لۡـ۴۶۶ لۡـ۴۶۷ لۡـ۴۶۸ لۡـ۴۶۹ لۡـ۴۷۰ لۡـ۴۷۱ لۡـ۴۷۲ لۡـ۴۷۳ لۡـ۴۷۴ لۡـ۴۷۵ لۡـ۴۷۶ لۡـ۴۷۷ لۡـ۴۷۸ لۡـ۴۷۹ لۡـ۴۸۰ لۡـ۴۸۱ لۡـ۴۸۲ لۡـ۴۸۳ لۡـ۴۸۴ لۡـ۴۸۵ لۡـ۴۸۶ لۡـ۴۸۷ لۡـ۴۸۸ لۡـ۴۸۹ لۡـ۴۹۰ لۡـ۴۹۱ لۡـ۴۹۲ لۡـ۴۹۳ لۡـ۴۹۴ لۡـ۴۹۵ لۡـ۴۹۶ لۡـ۴۹۷ لۡـ۴۹۸ لۡـ۴۹۹ لۡـ۵۰۰ لۡـ۵۰۱ لۡـ۵۰۲ لۡـ۵۰۳ لۡـ۵۰۴ لۡـ۵۰۵ لۡـ۵۰۶ لۡـ۵۰۷ لۡـ۵۰۸ لۡـ۵۰۹ لۡـ۵۱۰ لۡـ۵۱۱ لۡـ۵۱۲ لۡـ۵۱۳ لۡـ۵۱۴ لۡـ۵۱۵ لۡـ۵۱۶ لۡـ۵۱۷ لۡـ۵۱۸ لۡـ۵۱۹ لۡـ۵۲۰ لۡـ۵۲۱ لۡـ۵۲۲ لۡـ۵۲۳ لۡـ۵۲۴ لۡـ۵۲۵ لۡـ۵۲۶ لۡـ۵۲۷ لۡـ۵۲۸ لۡـ۵۲۹ لۡـ۵۳۰ لۡـ۵۳۱ لۡـ۵۳۲ لۡـ۵۳۳ لۡـ۵۳۴ لۡـ۵۳۵ لۡـ۵۳۶ لۡـ۵۳۷ لۡـ۵۳۸ لۡـ۵۳۹ لۡـ۵۴۰ لۡـ۵۴۱ لۡـ۵۴۲ لۡـ۵۴۳ لۡـ۵۴۴ لۡـ۵۴۵ لۡـ۵۴۶ لۡـ۵۴۷ لۡـ۵۴۸ لۡـ۵۴۹ لۡـ۵۵۰ لۡـ۵۵۱ لۡـ۵۵۲ لۡـ۵۵۳ لۡـ۵۵۴ لۡـ۵۵۵ لۡـ۵۵۶ لۡـ۵۵۷ لۡـ۵۵۸ لۡـ۵۵۹ لۡـ۵۶۰ لۡـ۵۶۱ لۡـ۵۶۲ لۡـ۵۶۳ لۡـ۵۶۴ لۡـ۵۶۵ لۡـ۵۶۶ لۡـ۵۶۷ لۡـ۵۶۸ لۡـ۵۶۹ لۡـ۵۷۰ لۡـ۵۷۱ لۡـ۵۷۲ لۡـ۵۷۳ لۡـ۵۷۴ لۡـ۵۷۵ لۡـ۵۷۶ لۡـ۵۷۷ لۡـ۵۷۸ لۡـ۵۷۹ لۡـ۵۸۰ لۡـ۵۸۱ لۡـ۵۸۲ لۡـ۵۸۳ لۡـ۵۸۴ لۡـ۵۸۵ لۡـ۵۸۶ لۡـ۵۸۷ لۡـ۵۸۸ لۡـ۵۸۹ لۡـ۵۹۰ لۡـ۵۹۱ لۡـ۵۹۲ لۡـ۵۹۳ لۡـ۵۹۴ لۡـ۵۹۵ لۡـ۵۹۶ لۡـ۵۹۷ لۡـ۵۹۸ لۡـ۵۹۹ لۡـ۶۰۰ لۡـ۶۰۱ لۡـ۶۰۲ لۡـ۶۰۳ لۡـ۶۰۴ لۡـ۶۰۵ لۡـ۶۰۶ لۡـ۶۰۷ لۡـ۶۰۸ لۡـ۶۰۹ لۡـ۶۱۰ لۡـ۶۱۱ لۡـ۶۱۲ لۡـ۶۱۳ لۡـ۶۱۴ لۡـ۶۱۵ لۡـ۶۱۶ لۡـ۶۱۷ لۡـ۶۱۸ لۡـ۶۱۹ لۡـ۶۲۰ لۡـ۶۲۱ لۡـ۶۲۲ لۡـ۶۲۳ لۡـ۶۲۴ لۡـ۶۲۵ لۡـ۶۲۶ لۡـ۶۲۷ لۡـ۶۲۸ لۡـ۶۲۹ لۡـ۶۳۰ لۡـ۶۳۱ لۡـ۶۳۲ لۡـ۶۳۳ لۡـ۶۳۴ لۡـ۶۳۵ لۡـ۶۳۶ لۡـ۶۳۷ لۡـ۶۳۸ لۡـ۶۳۹ لۡـ۶۴۰ لۡـ۶۴۱ لۡـ۶۴۲ لۡـ۶۴۳ لۡـ۶۴۴ لۡـ۶۴۵ لۡـ۶۴۶ لۡـ۶۴۷ لۡـ۶۴۸ لۡـ۶۴۹ لۡـ۶۵۰ لۡـ۶۵۱ لۡـ۶۵۲ لۡـ۶۵۳ لۡـ۶۵۴ لۡـ۶۵۵ لۡـ۶۵۶ لۡـ۶۵۷ لۡـ۶۵۸ لۡـ۶۵۹ لۡـ۶۶۰ لۡـ۶۶۱ لۡـ۶۶۲ لۡـ۶۶۳ لۡـ۶۶۴ لۡـ۶۶۵ لۡـ۶۶۶ لۡـ۶۶۷ لۡـ۶۶۸ لۡـ۶۶۹ لۡـ۶۷۰ لۡـ۶۷۱ لۡـ۶۷۲ لۡـ۶۷۳ لۡـ۶۷۴ لۡـ۶۷۵ لۡـ۶۷۶ لۡـ۶۷۷ لۡـ۶۷۸ لۡـ۶۷۹ لۡـ۶۸۰ لۡـ۶۸۱ لۡـ۶۸۲ لۡـ۶۸۳ لۡـ۶۸۴ لۡـ۶۸۵ لۡـ۶۸۶ لۡـ۶۸۷ لۡـ۶۸۸ لۡـ۶۸۹ لۡـ۶۹۰ لۡـ۶۹۱ لۡـ۶۹۲ لۡـ۶۹۳ لۡـ۶۹۴ لۡـ۶۹۵ لۡـ۶۹۶ لۡـ۶۹۷ لۡـ۶۹۸ لۡـ۶۹۹ لۡـ۷۰۰ لۡـ۷۰۱ لۡـ۷۰۲ لۡـ۷۰۳ لۡـ۷۰۴ لۡـ۷۰۵ لۡـ۷۰۶ لۡـ۷۰۷ لۡـ۷۰۸ لۡـ۷۰۹ لۡـ۷۱۰ لۡـ۷۱۱ لۡـ۷۱۲ لۡـ۷۱۳ لۡـ۷۱۴ لۡـ۷۱۵ لۡـ۷۱۶ لۡـ۷۱۷ لۡـ۷۱۸ لۡـ۷۱۹ لۡـ۷۲۰ لۡـ۷۲۱ لۡـ۷۲۲ لۡـ۷۲۳ لۡـ۷۲۴ لۡـ۷۲۵ لۡـ۷۲۶ لۡـ۷۲۷ لۡـ۷۲۸ لۡـ۷۲۹ لۡـ۷۳۰ لۡـ۷۳۱ لۡـ۷۳۲ لۡـ۷۳۳ لۡـ۷۳۴ لۡـ۷۳۵ لۡـ۷۳۶ لۡـ۷۳۷ لۡـ۷۳۸ لۡـ۷۳۹ لۡـ۷۴۰ لۡـ۷۴۱ لۡـ۷۴۲ لۡـ۷۴۳ لۡـ۷۴۴ لۡـ۷۴۵ لۡـ۷۴۶ لۡـ۷۴۷ لۡـ۷۴۸ لۡـ۷۴۹ لۡـ۷۵۰ لۡـ۷۵۱ لۡـ۷۵۲ لۡـ۷۵۳ لۡـ۷۵۴ لۡـ۷۵۵ لۡـ۷۵۶ لۡـ۷۵۷ لۡـ۷۵۸ لۡـ۷۵۹ لۡـ۷۶۰ لۡـ۷۶۱ لۡـ۷۶۲ لۡـ۷۶۳ لۡـ۷۶۴ لۡـ۷۶۵ لۡـ۷۶۶ لۡـ۷۶۷ لۡـ۷۶۸ لۡـ۷۶۹ لۡـ۷۷۰ لۡـ۷۷۱ لۡـ۷۷۲ لۡـ۷۷۳ لۡـ۷۷۴ لۡـ۷۷۵ لۡـ۷۷۶ لۡـ۷۷۷ لۡـ۷۷۸ لۡـ۷۷۹ لۡـ۷۸۰ لۡـ۷۸۱ لۡـ۷۸۲ لۡـ۷۸۳ لۡـ۷۸۴ لۡـ۷۸۵ لۡـ۷۸۶ لۡـ۷۸۷ لۡـ۷۸۸ لۡـ۷۸۹ لۡـ۷۹۰ لۡـ۷۹۱ لۡـ۷۹۲ لۡـ۷۹۳ لۡـ۷۹۴ لۡـ۷۹۵ لۡـ۷۹۶ لۡـ۷۹۷ لۡـ۷۹۸ لۡـ۷۹۹ لۡـ۸۰۰ لۡـ۸۰۱ لۡـ۸۰۲ لۡـ۸۰۳ لۡـ۸۰۴ لۡـ۸۰۵ لۡـ۸۰۶ لۡـ۸۰۷ لۡـ۸۰۸ لۡـ۸۰۹ لۡـ۸۱۰ لۡـ۸۱۱ لۡـ۸۱۲ لۡـ۸۱۳ لۡـ۸۱۴ لۡـ۸۱۵ لۡـ۸۱۶ لۡـ۸۱۷ لۡـ۸۱۸ لۡـ۸۱۹ لۡـ۸۲۰ لۡـ۸۲۱ لۡـ۸۲۲ لۡـ۸۲۳ لۡـ۸۲۴ لۡـ۸۲۵ لۡـ۸۲۶ لۡـ۸۲۷ لۡـ۸۲۸ لۡـ۸۲۹ لۡـ۸۳۰ لۡـ۸۳۱ لۡـ۸۳۲ لۡـ۸۳۳ لۡـ۸۳۴ لۡـ۸۳۵ لۡـ۸۳۶ لۡـ۸۳۷ لۡـ۸۳۸ لۡـ۸۳۹ لۡـ۸۴۰ لۡـ۸۴۱ لۡـ۸۴۲ لۡـ۸۴۳ لۡـ۸۴۴ لۡـ۸۴۵ لۡـ۸۴۶ لۡـ۸۴۷ لۡـ۸۴۸ لۡـ۸۴۹ لۡـ۸۵۰ لۡـ۸۵۱ لۡـ۸۵۲ لۡـ۸۵۳ لۡـ۸۵۴ لۡـ۸۵۵ لۡـ۸۵۶ لۡـ۸۵۷ لۡـ۸۵۸ لۡـ۸۵۹ لۡـ۸۶۰ لۡـ۸۶۱ لۡـ۸۶۲ لۡـ۸۶۳ لۡـ۸۶۴ لۡـ۸۶۵ لۡـ۸۶۶ لۡـ۸۶۷ لۡـ۸۶۸ لۡـ۸۶۹ لۡـ۸۷۰ لۡـ۸۷۱ لۡـ۸۷۲ لۡـ۸۷۳ لۡـ۸۷۴ لۡـ۸۷۵ لۡـ۸۷۶ لۡـ۸۷۷ لۡـ۸۷۸ لۡـ۸۷۹ لۡـ۸۸۰ لۡـ۸۸۱ لۡـ۸۸۲ لۡـ۸۸۳ لۡـ۸۸۴ لۡـ۸۸۵ لۡـ۸۸۶ لۡـ۸۸۷ لۡـ۸۸۸ لۡـ۸۸۹ لۡـ۸۹۰ لۡـ۸۹۱ لۡـ۸۹۲ لۡـ۸۹۳ لۡـ۸۹۴ لۡـ۸۹۵ لۡـ۸۹۶ لۡـ۸۹۷ لۡـ۸۹۸ لۡـ۸۹۹ لۡـ۹۰۰ لۡـ۹۰۱ لۡـ۹۰۲ لۡـ۹۰۳ لۡـ۹۰۴ لۡـ۹۰۵ لۡـ۹۰۶ لۡـ۹۰۷ لۡـ۹۰۸ لۡـ۹۰۹ لۡـ۹۱۰ لۡـ۹۱۱ لۡـ۹۱۲ لۡـ۹۱۳ لۡـ۹۱۴ لۡـ۹۱۵ لۡـ۹۱۶ لۡـ۹۱۷ لۡـ۹۱۸ لۡـ۹۱۹ لۡـ۹۲۰ لۡـ۹۲۱ لۡـ۹۲۲ لۡـ۹۲۳ لۡـ۹۲۴ لۡـ۹۲۵ لۡـ۹۲۶ لۡـ۹۲۷ لۡـ۹۲۸ لۡـ۹۲۹ لۡـ۹۳۰ لۡـ۹۳۱ لۡـ۹۳۲ لۡـ۹۳۳ لۡـ۹۳۴ لۡـ۹۳۵ لۡـ۹۳۶ لۡـ۹۳۷ لۡـ۹۳۸ لۡـ۹۳۹ لۡـ۹۴۰ لۡـ۹۴۱ لۡـ۹۴۲ لۡـ۹۴۳ لۡـ۹۴۴ لۡـ۹۴۵ لۡـ۹۴۶ لۡـ۹۴۷ لۡـ۹۴۸ لۡـ۹۴۹ لۡـ۹۵۰ لۡـ۹۵۱ لۡـ۹۵۲ لۡـ۹۵۳ لۡـ۹۵۴ لۡـ۹۵۵ لۡـ۹۵۶ لۡـ۹۵۷ لۡـ۹۵۸ لۡـ۹۵۹ لۡـ۹۶۰ لۡـ۹۶۱ لۡـ۹۶۲ لۡـ۹۶۳ لۡـ۹۶۴ لۡـ۹۶۵ لۡـ۹۶۶ لۡـ۹۶۷ لۡـ۹۶۸ لۡـ۹۶۹ لۡـ۹۷۰ لۡـ۹۷۱ لۡـ۹۷۲ لۡـ۹۷۳ لۡـ۹۷۴ لۡـ۹۷۵ لۡـ۹۷۶ لۡـ۹۷۷ لۡـ۹۷۸ لۡـ۹۷۹ لۡـ۹۸۰ لۡـ۹۸۱ لۡـ۹۸۲ لۡـ۹۸۳ لۡـ۹۸۴ لۡـ۹۸۵ لۡـ۹۸۶ لۡـ۹۸۷ لۡـ۹۸۸ لۡـ۹۸۹ لۡـ۹۹۰ لۡـ۹۹۱ لۡـ۹۹۲ لۡـ۹۹۳ لۡـ۹۹۴ لۡـ۹۹۵ لۡـ۹۹۶ لۡـ۹۹۷ لۡـ۹۹۸ لۡـ۹۹۹ لۡـ۱۰۰۰ لۡـ۱۰۰۱ لۡـ۱۰۰۲ لۡـ۱۰۰۳ لۡـ۱۰۰۴ لۡـ۱۰۰۵ لۡـ۱۰۰۶ لۡـ۱۰۰۷ لۡـ۱۰۰۸ لۡـ۱۰۰۹ لۡـ۱۰۱۰ لۡـ۱۰۱۱ لۡـ۱۰۱۲ لۡـ۱۰۱۳ لۡـ۱۰۱۴ لۡـ۱۰۱۵ لۡـ۱۰۱۶ لۡـ۱۰۱۷ لۡـ۱۰۱۸ لۡـ۱۰۱۹ لۡـ۱۰۲۰ لۡـ۱۰۲۱ لۡـ۱۰۲۲ لۡـ۱۰۲۳ لۡـ۱۰۲۴ لۡـ۱۰۲۵ لۡـ۱۰۲۶ لۡـ۱۰۲۷ لۡـ۱۰۲۸ لۡـ۱۰۲۹ لۡـ۱۰۳۰ لۡـ۱۰۳۱ لۡـ۱۰۳۲ لۡـ۱۰۳۳ لۡـ۱۰۳۴ لۡـ۱۰۳۵ لۡـ۱۰۳۶ لۡـ۱۰۳۷ لۡـ۱۰۳۸ لۡـ۱۰۳۹ لۡـ۱۰۴۰ لۡـ۱۰۴۱ لۡـ۱۰۴۲ لۡـ۱۰۴۳ لۡـ۱۰۴۴ لۡـ۱۰۴۵ لۡـ۱۰۴۶ لۡـ۱۰۴۷ لۡـ۱۰۴۸ لۡـ۱۰۴۹ لۡـ۱۰۵۰ لۡـ۱۰۵۱ لۡـ۱۰۵۲ لۡـ۱۰۵۳ لۡـ۱۰۵۴ لۡـ۱۰۵۵ لۡـ۱۰۵۶ لۡـ۱۰۵۷ لۡـ۱۰۵۸ لۡـ۱۰۵۹ لۡـ۱۰۶۰ لۡـ۱۰۶۱ لۡـ۱۰۶۲ لۡـ۱۰۶۳ لۡـ۱۰۶۴ لۡـ۱۰۶۵ لۡـ۱۰۶۶ لۡـ۱۰۶۷ لۡـ۱۰۶۸ لۡـ۱۰۶۹ لۡـ۱۰۷۰ لۡـ۱۰۷۱ لۡـ۱۰۷۲ لۡـ۱۰۷۳ لۡـ۱۰۷۴ لۡـ۱۰۷۵ لۡـ۱۰۷۶ لۡـ۱۰۷۷ لۡـ۱۰۷۸ لۡـ۱۰۷۹ لۡـ۱۰۸۰ لۡـ۱۰۸۱ لۡـ۱۰۸۲ لۡـ۱۰۸۳ لۡـ۱۰۸۴ لۡـ۱۰۸۵ لۡـ۱۰۸۶ لۡـ۱۰۸۷ لۡـ۱۰۸۸ لۡـ۱۰۸۹ لۡـ۱۰۹۰ لۡـ۱۰۹۱ لۡـ۱۰۹۲ لۡـ۱۰۹۳ لۡـ۱۰۹۴ لۡـ۱۰۹۵ لۡـ۱۰۹۶ لۡـ۱۰۹۷ لۡـ۱۰۹۸ لۡـ۱۰۹۹ لۡـ۱۱۰۰ لۡـ۱۱۰۱ لۡـ۱۱۰۲ لۡـ۱۱۰۳ لۡـ۱۱۰۴ لۡـ۱۱۰۵ لۡـ۱۱۰۶ لۡـ۱۱۰۷ لۡـ۱۱۰۸ لۡـ۱۱۰۹ لۡـ۱۱۱۰ لۡـ۱۱۱۱ لۡـ۱۱۱۲ لۡـ۱۱۱۳ لۡـ۱۱۱۴ لۡـ۱۱۱۵ لۡـ۱۱۱۶ لۡـ۱۱۱۷ لۡـ۱۱۱۸ لۡـ۱۱۱۹ لۡـ۱۱۲۰ لۡـ۱۱۲۱ لۡـ۱۱۲۲ لۡـ۱۱۲۳ لۡـ۱۱۲۴ لۡـ۱۱۲۵ لۡـ۱۱۲۶ لۡـ۱۱۲۷ لۡـ۱۱۲۸ لۡـ۱۱۲۹ لۡـ۱۱۳۰ لۡـ۱۱۳۱ لۡـ۱۱۳۲ لۡـ۱۱۳۳ لۡـ۱۱۳۴ لۡـ۱۱۳۵ لۡـ۱۱۳۶ لۡـ۱۱۳۷ لۡـ۱۱۳۸ لۡـ۱۱۳۹ لۡـ۱۱۴۰ لۡـ۱۱۴۱ لۡـ۱۱۴۲ لۡـ۱۱۴۳ لۡـ۱۱۴۴ لۡـ۱۱۴۵ لۡـ۱۱۴۶ لۡـ۱۱۴۷ لۡـ۱۱۴۸ لۡـ۱۱۴۹ لۡـ۱۱۵۰ لۡـ۱۱۵۱ لۡـ۱۱۵۲ لۡـ۱۱۵۳ لۡـ۱۱۵۴ لۡـ۱۱۵۵ لۡـ۱۱۵۶ لۡـ۱۱۵۷ لۡـ۱۱۵۸ لۡـ۱۱۵۹ لۡـ۱۱۶۰ لۡـ۱۱۶۱ لۡـ۱۱۶۲ لۡـ۱۱۶۳ لۡـ۱۱۶۴ لۡـ۱۱۶۵ لۡـ۱۱۶۶ لۡـ۱۱۶۷ لۡـ۱۱۶۸ لۡـ۱۱۶۹ لۡـ۱۱۷۰ لۡـ۱۱۷۱ لۡـ۱۱۷۲ لۡـ۱۱۷۳ لۡـ۱۱۷۴ لۡـ۱۱۷۵ لۡـ۱۱۷۶ لۡـ۱۱۷۷ لۡـ۱۱۷۸ لۡـ۱۱۷۹ لۡـ۱۱۸۰ لۡـ۱۱۸۱ لۡـ۱۱۸۲ لۡـ۱۱۸۳ لۡـ۱۱۸۴ لۡـ۱۱۸۵ لۡـ۱۱۸۶ لۡـ۱۱۸۷ لۡـ۱۱۸۸ لۡـ۱۱۸۹ لۡـ۱۱۹۰ لۡـ۱۱۹۱ لۡـ۱۱۹۲ لۡـ۱۱۹۳ لۡـ۱۱۹۴ لۡـ۱۱۹۵ لۡـ۱۱۹۶ لۡـ۱۱۹۷ لۡـ۱۱۹۸ لۡـ۱۱۹۹ لۡـ۱۲۰۰ لۡـ۱۲۰۱ لۡـ۱۲۰۲ لۡـ۱۲۰۳ لۡـ۱۲۰۴ لۡـ۱۲۰۵ لۡـ۱۲۰۶ لۡـ۱۲۰۷ لۡـ۱۲۰۸ لۡـ۱۲۰۹ لۡـ۱۲۱۰ لۡـ۱۲۱۱ لۡـ۱۲۱۲ لۡـ۱۲۱۳ لۡـ۱۲۱۴ لۡـ۱۲۱۵ لۡـ۱۲۱۶ لۡـ۱۲۱۷ لۡـ۱۲۱۸ لۡـ۱۲۱۹ لۡـ۱۲۲۰ لۡـ۱۲۲۱ لۡـ۱۲۲۲ لۡـ۱۲۲۳ لۡـ۱۲۲۴ لۡـ۱۲۲۵ لۡـ۱۲۲۶ لۡـ۱۲۲۷ لۡـ۱۲۲۸ لۡـ۱۲۲۹ لۡـ۱۲۳۰ لۡـ۱۲۳۱ لۡـ۱۲۳۲ لۡـ۱۲۳۳ لۡـ۱۲۳۴ لۡـ۱۲۳۵ لۡـ۱۲۳۶ لۡـ۱۲۳۷ لۡـ۱۲۳۸ لۡـ۱۲۳۹ لۡـ۱۲۴۰ لۡـ۱۲۴۱ لۡـ۱۲۴۲ لۡـ۱۲۴۳ لۡـ۱۲۴۴ لۡـ۱۲۴۵ لۡـ۱۲۴۶ لۡـ۱۲۴۷ لۡـ۱۲۴۸ لۡـ۱۲۴۹ لۡـ۱۲۵۰ لۡـ۱۲۵۱ لۡـ۱۲۵۲ لۡـ۱۲۵۳ لۡـ۱۲۵۴ لۡـ۱۲۵۵ لۡـ۱۲۵۶ لۡـ۱۲۵۷ لۡـ۱۲۵۸ لۡـ۱۲۵۹ لۡـ۱۲۶۰ لۡـ۱۲۶۱ لۡـ۱۲۶۲ لۡـ۱۲۶۳ لۡـ۱۲۶۴ لۡـ۱۲۶۵ لۡـ۱۲۶۶ لۡـ۱۲۶۷ لۡـ۱۲۶۸ لۡـ۱۲

مَّا لَهَا مِنْ فَوَاقٍ ﴿۱۵﴾ وَقَالُوا رَبَّنَا عَجِّلْ لَّنَا قِطَّنَا قَبْلَ يَوْمِ الْحِسَابِ ﴿۱۶﴾ اِصْبِرْ عَلٰى مَا يَقُوْلُوْنَ وَاذْكُرْ
عَبْدَنَا دَاوٗدَ ذَا الْاَيْدِ ۚ اِنَّهٗۤ اَوَّابٌ ﴿۱۷﴾ اِنَّا سَخَّرْنَا الْجِبَالَ مَعَهٗ يُسَبِّحْنَ بِالْعَشِيِّ وَالْاِشْرَاقِ ﴿۱۸﴾ وَالطَّيْرَ

چه نیشته هغے لره هیڅ ایساریدل (۱۵) او دوی وائي اے ربه زمونږه زر راکړه مونږ له برخه زمونږ مخکښ دَ ورځې دَحساب نه (۱۶) صبرکوه په هغه چه دوی وائي او یاد کړه بنده زمونږ داؤد(علیه السلام) همت والا وؤ یقیناً دے ډیر رجوع کړځیدونکے وؤ اللّٰه تعالیٰ ته (۱۷) یقیناً ملګرے کړی وؤ مونږ غرونه دَ دهٔ سره تسبیح به ئے وئیله بیګاهي او دَ نمر ختلو په وخت کښ (۱۸) او مارغان

ورکوله بیا خاص مؤحدینوته نوپه لاسونواوخپوباندے ئے ورلره میخونه ټك وهل او قوّت دَ بادشاهئی ته هم اشاره ده محکه چه دَ میخونو خاوند وئیلے کیږی مضبوط اومحکم ته۔

[۱۵] دا تخویف اخروی ذکرکوی روستودَ تخویف دنیوی نه اوپه دے کښ زجرهم دے په انکارد قیامت سره ﴿صَيْحَةً وَّاحِدَةً﴾ مرادترینه اوله شپیلئی وهل دی دپاره دَفنا دَعالم﴿فَوَاقٍ﴾په اصل کښ دادے چه اوښه یاغوا لنګه یوځل اولشی بیاورته بچے پریږدی دَپاره دَ دے چه نورپئے را پریږدی نودوباره ئے اولشی نومراد دا دے چه دا شپیلئے چه شروع شی نوپه مینځ کښ به وقفه اودمه کول نه وی بلکه اوګډه اوممتده به وی یا مراد دا دے چه دوی له به مهلت نشی ورکیدلے په مقداردَفواق سره۔

[۱۶] داهم زجردے په استهزاکولودَ دوی په قیامت پورے ﴿قِطَّنَا﴾ قِطٌّ ټکړے دَ خیزته وئیلے کیدے شی یعنی برخه او کتاب او روزئیے وغیره ته شامل دے یعنی دوی وئیل چه حصّه دَ نعمتونو دَجنت مونږله په دنیا کښ راکړه یا حصّه دَعذاب زمونږ په دنیا کښ راکړه یا عملنامه زمونږ په دنیاکښ راکړه او دا ټول په طریقه دَ استهزا سره به دوی وئیل۔

[۱۷] دَ دے ایت نه دویم باب دے تر(۲۹) پورے په دے کښ تسلّی ده نبی ﷺ ته په ذکرکولودَ درے ابتلاءاتو سره په درے انبیاء علیهم السلام باندے خصوصاً اوتفصیلاًاوپه شپږوباندے اجمالاً اوروستودَ ذکرد ابتلاء اوّل نه زجرونه دی۔ اوروستودَ بحث دَابتلاء اتونه بشارت اوتخویف اُخروی تفصیلی دے اوپه آخرد دے باب کښ دعویٰ دَ توحید ده۔ په دے (۱۷) کښ اولاً امردے په صبرکولوسره روستودَ ذکرکولودَ څلورو انکارونودَ منکرینونه اوبیا امردے په ذکرد انبیاء علیهم السلام سره یعنی لکه چه په دغه انبیاء علیهم السلام(داؤد او سلیمان اوایوب) علیهم السلام باندے سره دَ بادشاهئی اومالدار ئے اونبوت دَ دوی نه ابتلائات راغلی وولیکن هغوی صبرکړے وؤنوته هم صبرکوه۔ یاداچه دوی دَتوحیدنه انکارکوی او وائی چه بزرګان زمونږ شفعاء دی نوپدے کښ ذکرکوی چه په دے بزرګانوباندے ابتلاء ات راغلی وو اوپه چا باندے چه ابتلاء ات راځی نوهغه شفیع قهری په اللّٰه تعالیٰ باندے نشی جوړیدلے۔ دَابتلاء ذکرکولونه رواندے مدحه په ذکرد اوصافوعالیودَ داؤد علیه السلام سره کوی اشاره ده که ډیر لوئے بندګان وی لیکن دَ ابتلاء اتونه نشی بچ کیدلے۔ نوپه دے ایت کښ درے صفتونه دَ داؤد علیه السلام ئے ذکر کړیدی۔

[۱۸] په دے ایت کښ دَ هغه څلورم صفت دے په طریقه دَ معجزے سره یعنی غرونه چه په مخلوق کښ ډیرسخت مخلوق دے لیکن هرکله چه داؤد علیه السلام به تسبیح وئیله یابه ئے زبور تلاوت کوؤ غرونوبه

مَحْشُورَةً ۖ كُلٌّ لَّهُ أَوَّابٌ ﴿۱۹﴾ وَشَدَدْنَا مُلْكَهُ وَآتَيْنَاهُ الْحِكْمَةَ وَفَصْلَ الْخِطَابِ ﴿۲۰﴾ وَهَلْ أَتَاكَ نَبَأُ الْخَصْمِ إِذْ
تَسَوَّرُوا الْمِحْرَابَ ﴿۲۱﴾ إِذْ دَخَلُوا عَلَىٰ دَاوُودَ فَفَزِعَ مِنْهُمْ ۖ قَالُوا لَا تَخَفْ ۖ خَصْمَانِ بَغَىٰ بَعْضُنَا عَلَىٰ بَعْضٍ فَاحْكُمْ بَيْنَنَا
بِالْحَقِّ وَلَا تُشْطِطْ وَاهْدِنَا إِلَىٰ سَوَاءِ الصِّرَاطِ ﴿۲۲﴾ إِنَّ هَٰذَا أَخِي لَهُ تِسْعٌ وَتِسْعُونَ نَعْجَةً وَلِيَ نَعْجَةٌ وَاحِدَةٌ ف

راغونه کړے شوی وؤ ټول وؤ هغه ته راګرځیدونکی (۱۹) او کلکه کړے وه مونږ بادشاهی د ده او ورکړیوه مونږ هغه ته ښه پوهه د دین او فیصله کوونکے خبرے (۲۰) او ایا راغلے دے تاته خبر د جګړه کوؤنکو کله چه اوختل دوی په دیوال د عبادت ځائے باندے (۲۱) کله چه داخل شول په داؤد(علیه السلام) باندے نو ګبراؤ شو د دوی نه دوی اُوئیل مه ویریګه مونږ دعویداریو په یو بل باندے زیاتے کړے دے یو په بل باندے نو فیصله اوکړه زمونږ په مینځ کښ حقه فیصله او د حدنه زیاتے مکوه او خود نه اوکړه مونږ ته د برابر لارے (۲۲) یقیناً دا زما رور دے ده لره یو کم سل ګلډے دی او زما یوه ګلډه ده

ورسره هم تسبیح اوتلاوت د زبور کوؤ ﴿بِالْعَشِيِّ﴾ وئیلے کیږی روستنی نصف د ورځے ته مازیګر، ماښام اوماسخوتن پکښ داخل دی ﴿وَالْإِشْرَاقِ﴾ په دے کښ صلوة الاشراق (چه هرکله نمریو نیزه دوه نیزے د غرونو نه را اوچت شی) ته اشاره ده۔

[۱۹] دابل معجزانه صفت دے اومرغان په مخلوق کښ ډیرنرم زړه والادی نومقابل دی د غرونو۔یعنی ډیرسخت اوډیرنرم دواړه د هغه سره یوځائے تسبیح وئیلو کښ ملګری وو۔

[۲۰] په دے ایت کښ د هغه نور درے صفتونه ذکر کوی (۱) ﴿شَدَدْنَا مُلْكَهُ﴾ مُلك کثرت د مِلکیت کښ استعمالیږی د ده لښکرے ډیرے وے اوهیبت اورعب ئے په خلقو باندے وو اوورسره تائید اونصرت الٰهیه وو (۲) ﴿وَآتَيْنَاهُ الْحِكْمَةَ﴾ علم د کتاب اللّٰه اودسنت، معرفت د دقائقواولطائفوپه نصوصو او احکامو شرعیو کښ (۳) ﴿فَصْلَ الْخِطَابِ﴾ دا لفظ شامل دے مختصراوجامع کلام ته اود حمد وصلوة نه روستو کلمے د امّا بعد ته هغه علم کامل ته چه د مدعی اومدعا علیه ترمینځه فیصله کولے شی۔

[۲۱] روستود ذکرد صفاتود داؤد(علیه السلام) نه چه دلالت کوی د هغه په عزت دلوئیے باندے ذکرکوی ابتلاء د هغه اوبیا رجوع د هغه اللّٰه تعالیٰ ته ﴿الْمِحْرَابَ﴾ په شرع د بنی اسرائیلو کښ د خاص بندګانود عبادت ځائے به مستقل اوجدا وؤهغے ته به ئے محراب وئیل اومحراب ئے د دے وجے نه وئیل چه هغه مکان د مقابلے کولود شیطان وواوداسے سورة العمران کښ تیرشویدی۔

[۲۲] هرکله چه دروازے د عبادت خانے باندے وے اوداکسان (خصمان) فیصلے ته محتاج وونودوی مجبوراً په دیوال باندے را اوختل ﴿فَفَزِعَ مِنْهُمْ﴾ په نا اشنا طریقه باندے بے اجازته داخلیدل ضرورسبب د ویرے اود ګبراهټ وی۔ فَزِعَ: دے ته وئیلے کیږی چه د یرے اثارپه ظاهربدن باندے ښکاره شی هرکله چه دوی د آثارونه معلومه کړه چه دے زمونږپه وجه اویریدلو چه کیدیشی دا به دشمنان وی نوهغوی اول تسلّی ورکړه په ﴿لَا تَخَفْ﴾، سره او بیائے خپل حال پیش کړو چه خَصْمَان، مراد ترینه مدعی او مدعا علیه دی او اجمالی سبب د خصومت ئے ذکرکړوپه دے قول سره ﴿بَغَىٰ بَعْضُنَا عَلَىٰ بَعْضٍ﴾ بغیٰ دَبل چاحق باندے ظلماً تعدّی کولوته وئیلے کیږی ﴿وَاهْدِنَا﴾ په دے کښ اشاره ده چه روستود فیصلے کولونه مونږته

فَقَالَ اَكْفِلْنِيْهَا وَعَزَّنِيْ فِي الْخِطَابِ ﴿۲۳﴾ قَالَ لَقَدْ ظَلَمَكَ بِسُؤَالِ نَعْجَتِكَ اِلٰى نِعَاجِهٖ ؕ وَاِنَّ كَثِيْرًا مِّنَ
الْخُلَطَآءِ لَيَبْغِيْ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ اِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَقَلِيْلٌ مَّا هُمْ ؕ وَظَنَّ دَاوٗدُ اَنَّمَا فَتَنّٰهُ فَاسْتَغْفَرَ
رَبَّهٗ وَخَرَّ رَاكِعًا وَّاَنَابَ ﴿۲۴﴾ فَغَفَرْنَا لَهٗ ذٰلِكَ ؕ وَاِنَّ لَهٗ عِنْدَنَا لَزُلْفٰى وَحُسْنَ مَاٰبٍ ﴿۲۵﴾ يٰدَاوٗدُ اِنَّا جَعَلْنٰكَ

نو دے وائي دا ماته اوسپاره او زورآور دے په ما باندے په خبرو کښ (۲۳) اُوئيل هغه يقيناً دهٔ ظلم کړے دے په تا باندے په سبب دَ طلب کولو دَ ګڼو ستا ګڼو خپلو ته او يقيناً ډير دَ شرکت کوؤنکونه خامخا ظلم کوی بعضے دَ دوی په بعضو باندے مګر هغه کسان چه ايمان ئے راوړے دے او عمل ئے کړيدے په موافق دَ سنت سره اولګ دی دوی او ګمان اوکړو داؤد(عليه السلام) چه يقيناً امتحان کړے دے مونږ په دهٔ باندے نو بخنه ئے او غوختله دَ رب خپل نه اوپريوتلو رکوع کوؤنکے او اوګرځيدو الله تعالیٰ ته (۲٤) نو بخنه اوکړه مونږ دهٔ ته دَ دغه خبرے او يقيناً دهٔ لره زمونږ سره خامخا نزدے والے اوخائسته ځائے دَ راتلو دے (۲۵) اے داؤد يقيناً مونږ ګرځولے ئے ته

داسے آداب اوخايه چه آئنده دَپاره جنګ نه پيدا کيږی او دا دَ هوښيارحاکم طريقه وی۔

[۲۳] دا تفصيل دَ خصومت دے اوتيرشوی ايت کښ دَ خصمانوشريك بيان وؤاوپه دے ايت کښ دَ يوخصم بيان دے۔ او دامدعا عليه دے ځکه چه هغه بل خصم دَ دهٔ په يوه ګڼه باندے دعویٰ کړيده اودے ترينه منکردے ﴿اَخِيْ﴾ رورنسبی وؤيا دينی وؤدواړه احتماله شته ﴿وَعَزَّنِيْ فِي الْخِطَابِ﴾ وجه دَ غلبے په خبرو داده چه هغهٔ فصيح اوچالاك وؤ يا دَ مالدارئے دَ وجے غالب او زور آور وؤ۔

[۲٤] مفسرقرطبی دَ ابو عبد الله حليمی نه نقل کړيدے چه داؤدعليه السلام په شکايت کوؤنکی کښ آثاردَکمزورئے اوليدل نو يقين ئے راغے چه دے مظلوم دے اودا سبب اوګرځيدلودَ دے خبرے چه دَ هغه بل خصم نه ئے هيڅ تپوس اونکړو اودَ عجلت نه ئے کارواخستلواوفيصله ئے اوکړله ﴿لَقَدْ ظَلَمَكَ بِسُؤَالِ نَعْجَتِكَ اِلٰى نِعَاجِهٖ﴾ اوهغه بل ته ئے ظالم اُوئيل اودا مصداق دَ فتنے دے چه روستوذکرکيږی ځکه چه داسے عجلت دَ نبی دَ شان سره مناسب نه دے بلکه دَ بل جانب نه تپوس کول ضروری وؤ۔ ليکن نعمت دَ الله تعالیٰ ورسره دا اوشو چه بغيردَ نسبت دَ ظلم نه ئے نوره سزا او عقوبت هغه ته ورنه کړو او دَ دے نعمت په شکريه کښ داؤدعليه السلام سجده کړے ده ۔ او دَ دے وجے نه حديث کښ وارد دی چه داؤدعليه السلام دا سجده دَ شکر کړيده او مونږ ئے دَ هغه دَ اقتداء دَ وجے نه کوؤ دا روايت قرطبی ذکر کړيدے ليکن صحيح روايت دا دے چه داؤدعليه السلام دا سجده دَ توبے په طور کړيده او مونږبه دَ شکر په طور سره کوؤ او دا ابن کثير په روايت دَ امام نسائی سره نقل کړيدے او وئيلی دی چه دا سند صحيح دے ﴿وَظَنَّ دَاوٗدُ اَنَّمَا فَتَنّٰهُ﴾ مصداق دَ فتنے تعجيل کول وی په فيصله کښ لکه چه اوس تيرشول او مراد ترينه خطا کيدل دی په سبب دَعجلت کولو سره اګرچه دا معصية نه دے ځکه چه دَ هغه په شرع کښ دا واجب نه وه چه دَ بل جانب نه دِ تپوس کيدے شی ليکن مناسب وه نو دا ترك اولی دے چه انبياء عليهم السلام په دے باندے هم خفه کيږی ځکه چه حسنات الابرار سيئات المقربين يعنی دَ عامونيکانويوجائزکاردَخاص بندګانوپه نسبت بد ګڼرلے کيږی۔ يا مصداق دَ فتنے دا وو چه داؤدعليه السلام خپل اوقات تقسيم کړی وو چه يو ورځ به ئے فيصلے دَ خلقو

خَلِيْفَةً فِي الْاَرْضِ فَاحْكُمْ بَيْنَ النَّاسِ بِالْحَقِّ وَلَا تَتَّبِعِ الْهَوٰى فَيُضِلَّكَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ اِنَّ الَّذِيْنَ يَضِلُّوْنَ
عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيْدٌ ۢ بِمَا نَسُوْا يَوْمَ الْحِسَابِ ﴿۲۶﴾ وَمَا خَلَقْنَا السَّمَآءَ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا
بَاطِلًا ؕ ذٰلِكَ ظَنُّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ۚ فَوَيْلٌ لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنَ النَّارِ ﴿۲۷﴾ اَمْ نَجْعَلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

خلیفه (فیصلے کوؤنکے) په ملك کښ نو فیصلے کوه په مینځ دَ خلقو کښ په حق سره او تابعداری اونکړے دَ خواهش نو وایه ړوی تالره دَ لارے دَ اللّٰه تعالیٰ نه یقیناً هغه کسان چه اوړی دَ لارے دَ اللّٰه تعالیٰ نه دوی لره عذاب سخت دے په دے وجه چه دوی هیره کړے ده ورځ دَ حساب (۲۶) او نه دی پیدا کړی مونږ اسمان او زمکه او هغه چه دَ دے په مینځ کښ دی بے فائدے دا ګمان دے دَ کافرانو نو تباهی ده کافرانو لره دَ اور نه (۲۷) ایا ګرځوؤ مونږ هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے او عملونه ئے کړی دی موافق دَ سنت سره

کولے اودویمه ورځ به ئے عبادت خانه کښ خلوت نشینی کوله دَ پاره دَ عبادت دَ اللّٰه تعالیٰ او دا دَ هغه اجتهاد وؤ لیکن په دے واقعے سره اللّٰه تعالیٰ هغه ته تنبیه ورکړه چه هرکله ستا دَ عبادت په ورځ دَ چا حکړه راشی او فیصلے شرعی ته محتاج وی نو دا فیصله به ځوك کوی اوحال داچه دَ شرعی فیصلے کولو ثواب اواجرد نفلی عبادتونونه بهتردے۔ نودَ تنبیه دَ اللّٰه تعالیٰ نه داؤدعلیه السلام ته معلومه شوه چه د ا تقسیم زما دَ طرف نه مناسب نه دے او دا خلاف اولیٰ دے دَ دے وجے نه ګمان ئے اوکړوچه ځه په فتنه کښ واقع شوم ﴿فَاسْتَغْفَرَ رَبَّهٗ﴾ استغفاردَ انبیاؤعلیهم السلام دَګناه نه نهٔ وی ځکه چه هغوی معصوم دی لیکن دا استغفار تعبداً وی یعنی ځان دَ اللّٰه تعالیٰ خاص بنده اوګنړی او بعضے حالات خپل مناسب اونه ګنړی نو دَهغے نه توبے اوباسی ﴿وَخَرَّ رَاكِعًا وَّاَنَابَ﴾ رکوع په معنیٰ دَ سجدے ده په دلیل دَ لفظ دَ خَرَّ سره۔

[۲۵] اوله نتیجه دَ استغفارده او دویمه نتیجه دَ سجدے کولو ده او دریمه نتیجه دَ انابت اِلی اللّٰه تعالیٰ ده۔

[۲۶] ربط دَدے ایت تقاضاکوی چه ماقبل واقعه دَ فیصلے کولو سره تعلق لری لکه چه روستو دوه طریقے بیان شویدی او دَ واقعے دَ اوریا سره هیڅ تعلق نه لری او په دے ایت کښ تثبیت دے داؤدعلیه السلام ته او ادب اوطریقه خودل دی دَ شرعی فیصلو کولو او تنبیه ده نورو خلقوته دَ اتباع دَ خواهش په باره کښ او هرچه داؤدعلیه السلام دے نو هغه خو معصوم دے دَ هغه نه دا خطره نیشته چه تابعداری دَ خواهش به ئے کړے وی یا به آئنده دپاره اوکړی، داسے مفسر آلوسی په تفسیر روح المعانی کښ لیکلی دی نو کومو مفسرینو چه وئیلی دی چه داتنبیه داؤدعلیه السلام ته ورکوی ځکه چه هغه دَ اوریا دَ ښځے په حصول کښ اتباع دَهویٰ ته دخل ورکړے وؤ نو دَغه مفسرینودَ انصاف نه بهر خبره کړے ده او دائے دَ انبیاؤ په شان کښ ګستاخی کړیده۔ ﴿خَلِيْفَةً فِي الْاَرْضِ﴾ خطیب شربینی لیکلی دی چه دَ خلیفه دوه معنے دی اوله معنیٰ دا ده چه اللّٰه تعالیٰ ته دَ تیرشوی انبیاؤعلیهم السلام نه نائب ګرځولے ئے په دعوة الی اللّٰه تعالیٰ اوپه سیاست دَخلقوکښ اودویمه معنیٰ داچه تاله ئے طاقت درکړے دے چه احکام دَ اللّٰه تعالیٰ په زمکه کښ نافذ کړے۔

[۲۷] ربط دَ دے آیت مخکښ سره دا دے چه مخکښ تخویف وؤ په نسیان دَ یوم الحساب نو په دے آیتونو کښ رد په منکرینو دَ یوم الحساب او اثبات دَ قیامت دے۔ او دا آیت دلیل دے چه ځوك دا مخلوق

كَالْمُفْسِدِيْنَ فِي الْاَرْضِ اَمْ نَجْعَلُ الْمُتَّقِيْنَ كَالْفُجَّارِ ﴿۲۸﴾ كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ اِلَيْكَ مُبٰرَكٌ لِّيَدَّبَّرُوْٓا اٰيٰتِهٖ وَلِيَتَذَكَّرَ اُولُوا
الْاَلْبَابِ ﴿۲۹﴾ وَوَهَبْنَا لِدَاوٗدَ سُلَيْمٰنَ ۭ نِعْمَ الْعَبْدُ ۭ اِنَّهٗٓ اَوَّابٌ ﴿۳۰﴾ ۘ اِذْ عُرِضَ عَلَيْهِ بِالْعَشِيِّ الصّٰفِنٰتُ الْجِيَادُ ﴿۳۱﴾

پشان دَ هغه کسانو چه فساد کوی په ملك کښ ایا کرځوؤ متقیانو لره پشان دَ نافرمانو (۲۸) دا کتاب دے نازل کړے دے مونږ تاته برکتونو والا دے دے دپاره چه دوی سوچ اوکړی په ایاتونو دَ دهٔ کښ او دپاره دَ دے چه نصیحت واخلی خالص عقل والا (۲۹) او اوبخو مونږ داؤد(علیه السلام) ته سلیمان(علیه السلام) ښه بنده ووُ یقیناً دے الله تعالیٰ ته ډیر ورکرځیدونکے ووُ (۳۰) کله چه پیش کړیشو په هغه باندے په مازیګر کښ په درے خپو باندے ولاړ اسونه کړه (۳۱)

عبث او لوبے ګڼړی نو هغه کافر دے او دا ګمان ئے سبب دَ جهنم دے۔

[۲۸] اودا دویم رد دے په منکرینو دَ قیامت باندے یعنی جزا او سزا چه حق نوی نو بیا خو مؤمن او غیر مؤمن یوشان به وی او دا ے انصافی او ظلم دے۔

[۲۹] ترغیب دے قرآن کریم ته دپاره دَ اثبات دَ توحید او دپاره دَ تذکیر دَ قیامت او دَپاره دَ اثبات دَفرق په مینځ دَ دواړو فریقو کښ چه محکښ ایت کښ ذکروؤ ﴿مُبٰرَكٌ﴾ تفسیرنیشاپوری کښ په تفسیردَسورة انعام کښ وئیلی دی چه خیرد قرآن ډیردے نفع ئے همیشه ده باعث دے په ښه کارونو او منع کوؤنکے دے دَ بدکارونونه۔ او دَ الله تعالیٰ سنّت جاری دے چه څوك شغل دَ قرآن سره لری اوتمسك کوی په دهٔ باندے نو هغه به عزت والاوی په دنیا و آخرت کښ او دا په تجربے سره ثابته ده ﴿لِيَدَّبَّرُوْٓا اٰيٰتِهٖ﴾ مقصدد قرآن کریم صرف تلاوت نه دے بلکه په هغے باندے ځان پوهه ول دی اوسوچ کول دی ﴿وَلِيَتَذَكَّرَ اُولُوا الْاَلْبَابِ﴾ روستودَ تدبر او فکرکولونه بعض خلق نصیحت قبول کړی او بعض نه قبلوی چاچه قبول کړو نوهغه ته ئے خالص عقل والا اوئیل ـاشاره ده چه دَ علم دَ قرآن نه مقصد عمل کول دی۔

[۳۰] دا دویمه قصه ده په دے کښ ذکرکوی خائسته صفات دَ سلیمان(علیه السلام) او وړسے ذکرکوی ابتلاء دَ هغه دَپاره دَ رد په مشرکینو چه ابتلاء په چا باندے راځی نو هغه شفیع قهری نشی کیدے اګرچه ډیرلوئے بزرګ وی ﴿وَوَهَبْنَا﴾ مراد دا دے چه هغه ئے نبی اوګرځوؤ دَپاره دَ دے چه په کار دَ نبوت کښ دَ داؤد(علیه السلام) سره مدد اوکړی او روستو دَ وفات دَ هغه نه سلیمان(علیه السلام) نبی هم وو او بادشاه هم شو۔

[۳۱] په دے کښ دریم صفت دَ هغه ذکرکوی یعنی دَ جهاد فی سبیل الله او دَ رباط فی سبیل الله سره محبت کول یعنی اسونه دَ جهاد دَپاره سائل او دَ هغے خدمت کول سبب دَ لوئے اجردے ﴿بِالْعَشِيِّ﴾ روستودَ زوال نه ترغروب پورے وخت ته عشی ویلے شی او عشاء روستو دَ غروب دَ نمر اوغروب دَ شفق ته وئیلے کیږی ﴿الصّٰفِنٰتُ﴾ هغه اسونه دی چه ولاړوی نو دریواړه خپے ئے مضبوطے او دَ ځلورمې خپے سوه ئیے سسته لګولے وی او دَ ګرهٔ او تیزرفتار اس علامت دے۔

فَقَالَ اِنِّيْٓ اَحْبَبْتُ حُبَّ الْخَيْرِ عَنْ ذِكْرِ رَبِّيْ ۚ حَتّٰى تَوَارَتْ بِالْحِجَابِ ﴿۳۲﴾ رُدُّوْهَا عَلَيَّ ۭ فَطَفِقَ مَسْحًۢا بِالسُّوْقِ
وَالْاَعْنَاقِ ﴿۳۳﴾ وَلَقَدْ فَتَنَّا سُلَيْمٰنَ وَاَلْقَيْنَا عَلٰي كُرْسِيِّهٖ جَسَدًا ثُمَّ اَنَابَ ﴿۳۴﴾ قَالَ رَبِّ اغْفِرْ لِيْ وَهَبْ لِيْ مُلْكًا لَّا

نو اُوئیل هغه یقیناً ځه محبت کوم محبت دَ مال (اسونو) سره دَ وجے دَیادولو دَ رب زما نه (په دے سبب سره) تردے پورے چه پټ شو په پرده کښ (۳۲) واپس ئیے کړئے په ما باندے نو شروع شو چه لاس ئیے وهلو په پنډو او په ستونو (دَ اسونو) باندے (۳۳) او یقیناً امتحان کړے وؤ مونږ په سلیمان(علیه السلام) باندے او اچولی وؤ مونږ په کرسئے د هغه باندے یوه جوسه بیا اوګرځیدو اللّٰه تعالیٰ ته (۳٤) اُوئیل هغه اے ربه زما بخنه اوکړه ماته او را اوبخے ماته بادشاهی چه نه

[۳۲] پدیکښ جواب دَ وهم کوی که څوك اعتراض اوکړی چه دَ دنیا دَ ځیزونوسره مینه محبت کول ګناه دے اودا دَ پیغمبردَ شان سره مناسب نه دے نوپه دے ایت کښ دَ هغے جواب دے حاصل جوا ب دادے چه دا محبت دَ وجے دَ ذکردَ اللّٰه تعالیٰ نه دے ﴿اَلْخَيْرِ﴾ مال حلال ته وئیلے کیږی او دلته مراد اسونه دَ جهاد دی اوذکر نه مراد جهاد فی سبیل اللّٰه دے ﴿حَتّٰى تَوَارَتْ﴾ یعنی اسونه په صفونوسره هغه ته پیش شول اومعلومات ئیے کول چه دا دَ جهاد ګولو دَ پاره لائق دی اوکه نه تردے پورے چه لږ لږ دَ هغه دَ نظر نه پټ شول۔

[۳۳] روستودَ مسابقے نه اسونه ئیے دوباره طلب کړه لکه چه دا عادت دے دَ اسونودَ تربیت کوؤنکونودَ هغے پنډئ او څټونه ئیے پخپله صاف کړل دَ دوړونه او اوئیے تپه ول لکه چه داعادت عامه دے اودا دلیل دَ نهایت محبت دَ جهاد دے چه دَ هغے دَ اسبابو خدمت سلیمان(علیه السلام) پخپلولاسونو باندے کوی او داسے حدیث کښ وارد دی چه زمونږ نبی(ﷺ) به خپل اس په خپل ځاندرسره صفاکووا وبل حدیث کښ امرراغلے دے چه دَ دے اسونوتندی او روستوحصه دَ بدن پاکوئے اوحدیث دَعائشه رضی اللّٰه عنهاکښ وارد دی چه دَ دے اسونودَسلیمان(علیه السلام) وزرے هم وے او دا حدیث صحیح دے۔

[۳٤] روستودَ ذکردَ صفاتودَ سلیمان(علیه السلام) نه ابتلاء ذکرکوی په هغه دَپاره دَ نفی دَ الوهیت دَ هغه نه۔ ﴿فَتَنَّا﴾ فتنه دَ هرچا دَ هغهٔ دَ شان مناسب وی دَ انبیاؤ فتنه په حکم کښ خطاء اجتهادی یا سهواونسیان راتلل دی اودا ګناه نه دے لیکن سبب دَ خفګان دَ انبیاؤ دَپاره اوګرځی همسے نه چه اللّٰه تعالیٰ به زمونږ نه خفه شی دَ دے وجے نه دیته فتنه وائی اوپه باره دَ فتنے دَ سلیمان(علیه السلام) کښ صحیح قول دا دے کوم چه په حدیث صحیح کښ ذکردے دَ هغے حاصل دا دے چه "سلیمان(علیه السلام) دَ جهاد دَ محبت دَ وجے نه ا وغوختله چه خپل اولادئیے پیداشی او هغه به مجاهدین فی سبیل اللّٰه وی نو اوئیل ئیے چه ځه به نن شپه په ټولو بیبیانو خپلوباندے ګرځم او دَ هغوی نه چه اولاد پیداشی هغوی به مجاهدین وی" او انشاء اللّٰه تعالیٰ وئیل ترینه هیر شول نوځه موده روستودَ ولدیو تکړه(یعنی ولدِ ناتمام) دهٔ ته راوړے شواوپه کرسئ دَ دهٔ باندے واچولے شو چه صرف دا ولد ستا دَ یوے بی بی نه پیدا شو او دَ نورو بیبیانو هیڅ پیدانشول نو دهٔ ته را یاد شول چه زمانه انشاء اللّٰه تعالیٰ وئیل هیرشوی وو دا دَ هغے نتیجه ده نو دَ اللّٰه تعالیٰ نه ئیے بخنه اوغوختله او اللّٰه تعالیٰ ته ئیے رجوع اوکړه۔ بنا په دے دَ جسدنه مراد ولدِ ناتمام دے۔ دا صحیح حدیث دے او دَ انبیاو ٔعلیهم السلام

يَنۢبَغِيْ لِاَحَدٍ مِّنۢ بَعْدِيْ ۚ اِنَّكَ اَنْتَ الْوَهَّابُ ﴿۳۵﴾ فَسَخَّرْنَا لَهُ الرِّيْحَ تَجْرِيْ بِاَمْرِهٖ رُخَآءً حَيْثُ اَصَابَ ﴿۳۶﴾ وَالشَّيٰطِيْنَ
كُلَّ بَنَّآءٍ وَّغَوَّاصٍ ﴿۳۷﴾ وَّاٰخَرِيْنَ مُقَرَّنِيْنَ فِي الْاَصْفَادِ ﴿۳۸﴾ هٰذَا عَطَآؤُنَا فَامْنُنْ اَوْ اَمْسِكْ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿۳۹﴾ وَاِنَّ

خائیکی هیچا لره روستو زمانه یقیناً ته بخشش ورکوؤنکے ئے (۳۵) نو په خدمت دَ هغه کښ مو اولګوله هوا روانه به وه په حکم دَ هغه سره نرمه کوم خوا چه به دے تللو (۳۶) او شیطانان هر آبادی کوؤنکی او غوبے وهونکی (۳۷) او نور چه یوځائے به ترلے شویوؤ په زنځیرونو کښ (۳۸) دا بخشش زمونږ دے نو احسان کوه یائیے راتپینګ کړه بغیر دَ حساب نه (۳۹) او یقیناً

دَ قوت نه دا بعیده نه ده چه سلو بیبیانوته یوشپه کښ نزدیکت اوکړی او بله ضروری خبره داده چه په احادیث دَ رسول الله ﷺ باندے په خپل عقل سره تلل جائزنه دی نوصرف په عقل سره دَ دے حدیث یا دَ نورو احادیثو صحیحو رد کول ظلم دے۔

[۳۵] دا ادب دے دَ انبیاء علیهم السلام چه دَ تواضع اوخشوع دَ اظهار دَپاره اودَ حصول دَ ترقئے دَ درجاتودَپاره استغفار غواړی دا دلیل په دے باندے نه دے چه سلیمان علیه السلام څه ګناه کړے وؤ۔ اواستغفار سبب دَ ترقئے دَ دنیا هم دے دَ دے وجے نه دَ دُعا دَ بادشاهئی نه ئیے استغفار مخکښ ذکرکړو ﴿وَهَبْ لِيْ مُلْكًا لَّا يَنْۢبَغِيْ لِاَحَدٍ مِّنْۢ بَعْدِيْ﴾ سلیمان علیه السلام دَ دین دَ حفاظت دَپاره داسوال کوی او وجه دا ده چه تمنا دَ دهٔ حاصله نه شوه چه مجاهدین اولادئیے طلب کول دَحفاظت دَ دین دپاره نو اوس بادشاهی طلب کوی دَحفاظت دَ دین دَپاره ﴿لَا يَنْۢبَغِيْ لِاَحَدٍ مِّنْۢ بَعْدِيْ﴾ مراد دَ دے داسے بادشاهی ده چه په سلیمان علیه السلام پورے خاص وی اودلیل په دے باندے حدیث صحیح دَ بخاری دے مضمون ئے دا دے چه نبی ﷺ فرمائیلی دی، چه بیګاشپه یوسرکش پیرے په ماپسے دَ مانځه په حالت کښ راغے مونځ ئے په ما باندے ګلاوډ کوؤنوالله تعالیٰ ماله په هغه باندے قدرت راکړو بیامِ اراده اوکړه چه دَ مسجد په ستن پورے اوترم چه صبا ئیے تاسو اوینے لیکن ماته دَ سلیمان علیه السلام دا دُعا یاده شوه دَ دے وجے ما اونه ترلو، نودا حدیث صریح دے چه سلیمان علیه السلام خصوصیت دَ خپل ځان دَ پاره طلب کوؤ زمخشری ذکر کړیدی چه مراد دَ دے خصوصیت نه معجزه ده او معجزه طلب کول دَ پاره دَ دے چه تصدیق دَ توحید او دَ نبوت حاصل شی دا دَ انبیاء علیهم السلام کاردے۔

[۳۶،۳۷،۳۸] په دے ایاتونو کښ اشاره ده استجابت دَ دعا دَ سلیمان علیه السلام ته او دَ معجزانه بادشاهئی په طور سره اول هوا مسخرکړے شوه چه په هغے سره به دَ دهٔ تخت دَ دهٔ دَ مقتضیٰ موافق چلیدلو۔ او دویم سرکش پیریان مسخرکړے شول چه هغه سخت کارونه ئیے کول چه انسانانوبه کولے نشو۔

[۳۹] هٰذَا کښ اشاره ماقبل بادشاهئی اوتسخیرَ هوا اودَ شیاطینوته ده ﴿عَطَآؤُنَا﴾ په دے سره وهم دفع کوی چه یهودیانو مشهورکړے وؤچه سلیمان علیه السلام ساحروؤ دا تسخیرئیے په سبب دَ جادو سره کړے وؤ نو جواب اوشوچه دا بخشش دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه وؤ په جادو منتر سره نه وو۔

لَهٗ عِنْدَنَا لَزُلْفٰى وَحُسْنَ مَاٰبٍ ﴿۴۰﴾ وَاذْكُرْ عَبْدَنَآ اَيُّوْبَ ۘ اِذْ نَادٰى رَبَّهٗٓ اَنِّيْ مَسَّنِيَ الشَّيْطٰنُ بِنُصْبٍ وَّعَذَابٍ ﴿۴۱﴾
اُرْكُضْ بِرِجْلِكَ ۚ هٰذَا مُغْتَسَلٌۢ بَارِدٌ وَّشَرَابٌ ﴿۴۲﴾ وَوَهَبْنَا لَهٗٓ اَهْلَهٗ وَمِثْلَهُمْ مَّعَهُمْ رَحْمَةً مِّنَّا وَذِكْرٰى
لِاُولِي الْاَلْبَابِ ﴿۴۳﴾ وَخُذْ بِيَدِكَ ضِغْثًا فَاضْرِبْ بِّهٖ وَلَا تَحْنَثْ ۗ اِنَّا وَجَدْنٰهُ صَابِرًا ۭ نِعْمَ الْعَبْدُ ۭ اِنَّهٗٓ اَوَّابٌ ﴿۴۴﴾

دهٔ لره زمونږ سره خامخا نزدیکت دے او خائسته ځائے دَ ورتللو (۴۰) او یاد کړه بنده زمونږ ایوب(علیه السلام) چه اوازئے ورکړو رب خپل ته بیشکه ځه چه یم رسوَلے دے ماته شیطان په مرض او تکلیف سره (۴۱) اُوهه زمکه په خپله خپه باندے دا ځائے دَلامبلودے یخ او اوبه دَځکلو دی (۴۲) او اوبخلو مونږ دهٔ ته بال بچ دَ دهٔ او پشان دَ هغوی ورسره دَ وجے دَ رحمت زمونږ نه او نصیحت خالص عقل والو لره (۴۳) او اونیسه په لاس خپل کښی جارو نو اُوهه په هغے (بی بی خپله) او قسم مه ماتوه یقیناً موندلے وؤ مونږ دے صبر ناك بنه بنده وؤ یقیناً دے ورکړځیدونکے وؤ اللّٰه تعالیٰ ته (۴۴)

[۴۰] اشاره ده چه دغه دنیوی نعمتونه سبب دَ لرے والی دَ اللّٰه تعالیٰ نه او دَ جنت نه نه وو لکه چه دَ نورو سرمایه دارو مالداری منافی وی دَ اخرت سره۔

[۴۱] دا دریمه قصه ده دَ داؤد(علیه السلام) ابتلاء په باره دَ شرعی فیصلو کښی وه او دَ سلیمان(علیه السلام) ابتلاء په باره دَ محبت دَ جهاد کښی وه اودَایوب(علیه السلام) ابتلاء په نفس دَ دهٔ کښی وه یعنی په بدن اومال کښی۔ او اول دواړه بادشاهان او عابدان وو او ایوب(علیه السلام) سرمایه دار او عابد وؤ۔ او هرکله چه مقصد په ابتلاء کښی اثبات دَ عبدیت دے دَ دے وجے نه دَ هغه صفت ئے ذکرکړوپه عَبْدَنَآ، سره اوتفسیردَ عبدیت ئے ذکرکړے په دے قول سره﴿اِذْنَادٰى رَبَّهٗٓ اَنِّيْ مَسَّنِيَ الشَّيْطٰنُ بِنُصْبٍ وَّعَذَابٍ﴾دَ قتاده قول دے چه شربینی نقل کړے دے چه نُصبٍ مرضونه بدنی دی۔ اوعذاب مصیبتونه خارجی دَ هلاکت دَ اهل اودَ مال دی۔ شیطان ته په نسبت کولوکښی صحیح قول دا دے چه افعال ټول دَ خیراوشردَایمان او کفرطاعت اومعصیت ټول په خلق دَ اللّٰه تعالیٰ سره دی لیکن ادب دا دے چه دَ شرنسبت اللّٰه تعالیٰ ته نه دے پکار اوشیطان ته دَ نسبت وجه دا ده چه په تکالیفواو مصیبتونو دَ صالحینوسره شیطان خوشحالیږی اوسبب اوګرځی دَ هغه دَ وسوسو لکه چه دَ نسیان نسبت یوشع(علیه السلام) شیطان ته کړے دے۔

[۴۲] دا استجابت دَ دُعا دَ هغه دے اوطریقه دَعلاج ده دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه ﴿اُرْكُضْ بِرِجْلِكَ﴾ رکض په پونده اوخپه باندے یوشے وهل دی۔ او تفسیر قرطبی کښی سخت رد ئے کړے دے په هغه متصوفه ګمراهانو چه دَ دے لفظ نه استدلال کوی چه ګلپاکول جائزدی اودا عین تحریف معنوی دے او مونږ په تفسیر دَ لاتمش فی الارض مرحاکښی دَ دے تردیدذکرکړے دے ﴿هٰذَا مُغْتَسَلٌۢ بَارِدٌ وَّشَرَابٌ﴾ دا طریقه دَعلاج دَ بدن ده چه په غسل سره به ظاهری مرضونه زائل شی او په ځکلو سره به دَ باطن مرضونه زائله شی۔

[۴۳] دا استجابة دَ دُعا په باره دَ اهل کښی دے چه اهل دَ هغه ګډوډ شوے وؤیا مړشوے وؤاللّٰه تعالیٰ بیا راجمع یا ژوندی کړل داهم معجزه وه ﴿ذِكْرٰى لِاُولِي الْاَلْبَابِ﴾ نصیحت دا دے چه په صبر کښی کامیابی ده او رحمت دَ اللّٰه تعالیٰ واسع دے دَ هغے نه نا امیدی جائزنه ده او تضرع او عاجزی اللّٰه تعالیٰ قبلوی۔

[۴۴] دا تدبیردے دپاره دَبچ کیدلوایوب(علیه السلام) لره دَ قسم دَماتولونه چه هغه قسم کړے وؤ چه ځه دا بنځه

وَاذْكُرْ عِبٰدَنَآ اِبْرٰهِيْمَ وَاِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ اُولِي الْاَيْدِيْ وَالْاَبْصَارِ ﴿۴۵﴾ اِنَّآ اَخْلَصْنٰهُمْ بِخَالِصَةٍ ذِكْرَى الدَّارِ ﴿۴۶﴾
وَاِنَّهُمْ عِنْدَنَا لَمِنَ الْمُصْطَفَيْنَ الْاَخْيَارِ ﴿۴۷﴾ وَاذْكُرْ اِسْمٰعِيْلَ وَالْيَسَعَ وَذَا الْكِفْلِ ۭ وَكُلٌّ مِّنَ الْاَخْيَارِ ﴿۴۸﴾

او یاد کړه بندګان زمونږ ابراهیم او اسحاق او یعقوب(علیهم السلام) خاوندان د لاسونو وؤ (عملونه) او د سترګو وؤ (علم) (٤٥) یقیناً غوره کړی وؤ مونږ دوی په غوره والی سره چه یاد ول د کور روستنی دی (٤٦) او یقیناً دوی په نیز زمونږ خامخا د صفا کړے شوی غوره خلقو نه وؤ (٤٧) او یاد کړه اسماعیل او الیسع او ذوالکفل(علیهم السلام) او دا ټول وؤ د غوره خلقو نه (٤٨)

سل درّے وهم اودَ دے ښځے د وهلوپه سبب کښ ډیر اقوال دی اصل پکښ دا دے چه ابلیس دیته ممثل شو په شکل د یو طبیب ئیے ورته اُوئیل چه ځه به ستادَ مرض علاج اوکړم اوهیڅ اجرت نه غواړم سیوا د دے نه چه هغه به یوپسکورے زما په تقرب سره ذبح کړی یا ته به اوائیے چه دا شفاء ورلره تاورکړیده د هغے بی بی په دے باندے فکر رانغے چه داڅوك دے او ځه ئیے اوئیل خو هغه خبره ئیے ایوب علیه السلام ته اورسوله هغه ډیر غصه شو اُوئیل ئیے ځه به تاسل دُرّے اوهم۔لیکن هرکله چه هغه ښځے په دے خبره باندے عقیده اوعمل نه وو کړے صرف ایوب علیه السلام ته ئیے رااورسوله نوهغه مجرمه نه وه نو د هغے وهل په سل دُرو سره ظلم جوړیدو اوکه بالکل ئیے وهل د هغے منع کړے وے نو ایوب علیه السلام په قسم کښ حانث کیدلو نو اللّٰه تعالیٰ داسے تدبیر اومخرج هغه ته او خایو چه په هغے سره ښځه د ظلم نه بچ شی او ایوب علیه السلام به د قسم ماتولونه بچ شی ﴿ضِغْثًا﴾ هغه جاروته وئیلے کیږی چه په هغه کښ سل کنړکی وی یا هغه ځانګے ته وئیلے کیږی چه مشتمله وی په سلوورو وړوخانګوباندے۔

فائده: ایوب علیه السلام ته چه کومه طریقه اوخودلے شوه دے ته په شرع کښ مخرج وئیلے کیږی حیله وئیل ورته مناسب نه دی ځکه چه حیله اګرچه په لغت کښ مطلق تدبیر خفی ته وئیلے کیږی لیکن اکثر استعمال د دے په هغه طریقه سره دے چه په هغے کښ خباثت وی او دا ذکرکړی دی راغب په مفردات القرآن کښ بیا په دے طریقه کښ د علماؤاختلاف دے د مجاهد اودعطاء نه نقل دی چه دا په ایوب علیه السلام پورے خاص ده اوبعضو وئیلی دی چه دارخصت باقی دے په حدود او ایمان(قسم) کښ زمونږ په شریعت کښ ځکه چه حدیث د مخدج(ناقص الخلقة) چه زنائیے کړے وه او غیر محصن وؤنونبی ﷺ د هغه د وهلو ډپاره داسے طریقه خودلے وه او ایمان ئیے په دے باندے قیاس کړے دے اواصح دا ده چه په حدودکښ په وخت د ضرورت کښ جائزده د وجے د حدیث نه او په ایمان کښ دا طریقه جائزنه ده ځکه چه دلیل شرعی نیشته اوبله دا چه کفاره زمونږپه شریعت کښ شته دے۔

[٤٥، ٤٦، ٤٧] دا ذکرد ابتلاء اتودے اجمالاًپه دغه درے انبیاء علیهم السلام باندے چه دَهغوی دَابتلاءاتو بیان په نورو سورتونوکښ راغلے دے او مقصد په دے کښ اثبات د عبدیت د دوی دے د دے وجے نه لفظ عِبَادَنَا، ئیے ذکرکړے دے ﴿وَالْاَبْصَارِ﴾ مراد ترینه بصیرت قلبیه دے یعنی خاوندان دَعلم اود معرفت الٰهیه وو اوپه دے صفتونوذکرکولوکښ لطیفه اشاره ده چه کوم خلق د دوی مخالفت کوی نود هغوی مثال داسے دے چه لاسونه اوسترګے نه وی۔ خطیب شربینی وئیلی دی دا دلیل دے چه انبیاء علیهم السلام دَګناهونونه

هٰذَا ذِكْرٌ ؕ وَاِنَّ لِلْمُتَّقِيْنَ لَحُسْنَ مَاٰبٍ ﴿٤٩﴾ جَنّٰتِ عَدْنٍ مُّفَتَّحَةً لَّهُمُ الْاَبْوَابُ ﴿٥٠﴾ مُتَّكِـِٕيْنَ فِيْهَا يَدْعُوْنَ فِيْهَا
بِفَاكِهَةٍ كَثِيْرَةٍ وَّشَرَابٍ ﴿٥١﴾ وَعِنْدَهُمْ قٰصِرٰتُ الطَّرْفِ اَتْرَابٌ ﴿٥٢﴾ هٰذَا مَا تُوْعَدُوْنَ لِيَوْمِ الْحِسَابِ ﴿٥٣﴾ اِنَّ هٰذَا
لَرِزْقُنَا مَا لَهٗ مِنْ نَّفَادٍ ﴿٥٤﴾ هٰذَا ؕ وَاِنَّ لِلطّٰغِيْنَ لَشَرَّ مَاٰبٍ ﴿٥٥﴾ جَهَنَّمَ ۚ يَصْلَوْنَهَا ۚ فَبِئْسَ الْمِهَادُ ﴿٥٦﴾ هٰذَا ۙ
فَلْيَذُوْقُوْهُ حَمِيْمٌ وَّغَسَّاقٌ ﴿٥٧﴾ وَّاٰخَرُ مِنْ شَكْلِهٖۤ اَزْوَاجٌ ﴿٥٨﴾ هٰذَا فَوْجٌ مُّقْتَحِمٌ مَّعَكُمْ ۚ لَا مَرْحَبًۢا بِهِمْ ؕ اِنَّهُمْ صَالُوا
النَّارِ ﴿٥٩﴾ قَالُوْا بَلْ اَنْتُمْ ۖ لَا مَرْحَبًۢا بِكُمْ ؕ اَنْتُمْ قَدَّمْتُمُوْهُ لَنَا ۚ فَبِئْسَ الْقَرَارُ ﴿٦٠﴾ قَالُوْا رَبَّنَا مَنْ قَدَّمَ لَنَا هٰذَا فَزِدْهُ

دا (یوقسم) ذکر دے او پوهه شئے چه متقیانو دپاره خائسته ځائے دَ ورتللو دے (٤٩) جنتونه دَ دیره کیدلو پرانستے شوی به وی دوی ته دروازے (٥٠) تکیه به وهلے وی دوی په هغے کښ غواړی به دوی په هغے کښ میوے ډیرے او څکل (٥١) او دَ دوی سره به وی بندؤنکی دَ سترګو خپلو په خاوندانو باندے همزولے (٥٢) دا هغه دے چه وعده ئے کیدے شوه تاسو سره دپاره دَ ورځ دَ حساب (٥٣) یقیناً دا بخښش زمونږ دے نیشته دهٗ لره هیڅ خلاصیدل (٥٤) دا بل قسم ذکر دے او یقیناً سرکشانو دپاره بدځائے دَ ورتللو دے (٥٥) جهنم دے ور داخلیږی به دوی هغے ته نو ناکاره دَ ارام ځائے دے (٥٦) دا خواوخکئے خوټکیدلے اوبه دی او وینے زوے دی (٥٧) او نور عذابونه دی دَ دے پشان قسما قسم (٥٨) دا یو ډله ده ورننوځی تاسو سره (او به وائي مشران) مرحبا (خوشحالی) نیشته دوی لره یقیناً دوی دا خلیږی به اور ته (٥٩) دوی به اُوائي بلکه تاسو مرحبا نیشته تاسو لره تاسو رامخکښ کړے دے دا مونږ ته نو ناکاره ځائے دے (٦٠) اوبه وائي دوی اے ربه زمونږه چاچه رامخکښ کړے مونږ ته دا نو زیات کړے هغه لره

پاك دی ځکه چه په مطلق اصطفاء سره دَمطلق خیریة نه دلالت کوی په عصمت باندے۔

[٤٨] دا درے انبیاء علیهم السلام ذکرکوی اشاره ده دَ دوی ابتلاء اتواوپه هغے باندے صبرکولوته۔ دَاسماعیل علیه السلام دَ ورکوالی ابتلاء اوصبرسورة صافات کښ ذکرشوے دے اودَ الیسع بن اخطرب او ذوالکفل (بشیر بن ایوب) علیهما السلام تفصیلی حالات اللّٰه تعالیٰ ته معلوم دی ﴿مِنَ الْاَخْيَارِ﴾ کښ اشاره ده دَ دوی مصیبتونوته په دعوت الی اللّٰه کښ اوپه هغے باندے صبرکول اونور اعمالوصالحوته۔

[دَ ٤٩ نه تر ٥٤پورے] روستودَبیان دَابتلاء اتودَانبیاء علیهم السلام نه بشارت اخرویه ذکرکوی دے انبیاؤ اودَ دوی تابعدارانولره اولفظ دَمتقین کښ داټول داخل دی۔اوپه دے بشارت کښ لس امور ذکر کوی۔ ﴿وَعِنْدَهُمْ قٰصِرٰتُ الطَّرْفِ﴾ دَبیان دَمکان اوخوراك اوځکاك نه روستودَ بیبیانوذکرکوی او نظر کول دَ بښځے خپل خاوندته چه بل چاته نه ګوری اشاره ده دَ دوی ډیروالی دَحیا اومحبت کولوته دَ خاوندانوسره۔ اتراب یعنی په عمرکښ اوپه حسن اوجمال کښ ټولے یوشان دی په روایت دَ ابن عباس رضی اللّٰه عنهما کښ راغلی دی چه دَ ټولوعمربه درے دیرش کلونه وی یا داچه دَ خاوندانوسره به هم عمر وی ﴿اِنَّ هٰذَا لَرِزْقُنَا مَا لَهٗ مِنْ نَّفَادٍ﴾ مراد دَ دے نه دوام دَ جنّت اودَ نعمتونودَ هغے اودَاهل جنت دے۔

[دَ ٥٥نه٦٤] پورے۔ دا تخویف اخروی دے په مقابل دَ بشارت دَ متقینوکښ او داهم مشتمل دے په لس حالاتِ قبیحه دَ اهل جهنّم ﴿وَاِنَّ لِلطّٰغِيْنَ﴾ مراد دَ دے نه کامل طغیان والادی یعنی مشرك ﴿غَسَّاقٌ﴾

عَذَابًا ضِعْفًا فِي النَّارِ ﴿٦١﴾ وَقَالُوا مَا لَنَا لَا نَرَىٰ رِجَالًا كُنَّا نَعُدُّهُم مِّنَ الْأَشْرَارِ ﴿٦٢﴾ أَتَّخَذْنَاهُمْ سِخْرِيًّا
أَمْ زَاغَتْ عَنْهُمُ الْأَبْصَارُ ﴿٦٣﴾ إِنَّ ذَٰلِكَ لَحَقٌّ تَخَاصُمُ أَهْلِ النَّارِ ﴿٦٤﴾ قُلْ إِنَّمَا أَنَا مُنذِرٌ ۖ وَمَا مِنْ إِلَٰهٍ إِلَّا
اللَّهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ ﴿٦٥﴾ رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا الْعَزِيزُ الْغَفَّارُ ﴿٦٦﴾ قُلْ هُوَ نَبَؤٌا عَظِيمٌ ﴿٦٧﴾ أَنتُمْ
عَنْهُ مُعْرِضُونَ ﴿٦٨﴾ مَا كَانَ لِيَ مِنْ عِلْمٍ بِالْمَلَإِ الْأَعْلَىٰ إِذْ يَخْتَصِمُونَ ﴿٦٩﴾ إِن يُوحَىٰ إِلَيَّ إِلَّا أَنَّمَا أَنَا نَذِيرٌ

عذاب دو چند په اورکښ (٦١) او دوی به اُوائي څه وجه ده مونږ لره چه نه وینو هغه سړی چه شمارل به مونږ هغوی لره دَ شروالو نه (٦٢) ایا ګرځولی ووُ مونږ هغوی لره مسخره کړے شوی یا کړے دی دَ دوی نه سترګے زمونږ (٦٣) یقیناً دا واقعی خبره ده جګړه ده دَ اور والو (٦٤) ته اُوایه یقیناً څه ویره درکوؤنکے یم او نیشته هیڅ حقدار دَ بندګئ سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه چه یو دے زور آور دے (٦٥) رب دَ اسمانونو او دَ زمکے دے او دَ مینځ دَ دے دواړو زورآور دے بخنه کوؤنکے دے (٦٦) ته اُوایه دا خبر لوے شان والادے (٦٧) تاسو دَ دهٔ نه مخ ګرځوؤ نکی ئیے (٦٨) نیشته ما لره هیڅ علم په مجلس اوچت کښ کله چه هغوی کورنئ کښ خبرے کولے (٦٩) وحی نه کیږی ماته مګر دَ دے وجے نه چه څه ویره ورکوؤنکے

هغه ګندګی چه بهیږی به دَ بدنونو اودَ زخمونودَ جهنم والونه یامقابل دَ حمیم دے یعنی ډیریخ چه دَ ډیریخ والی دَ وجے نه سوزول کوی او حدیث دَ ترمذی کښ وارد دی که چرے یوه بوقه دَ غساق نه په دنیا کښ توے کړے شی نوټول دنیا والا به بدبویه شی ﴿هَٰذَا فَوْجٌ مُّقْتَحِمٌ مَّعَكُمْ﴾ دا ذکردَ برائت دَ الهو باطلو او دَ عابدانو دَ هغوی دے دَیوبل نه۔ یعنی هرکله چه ملائکورا روان کړے وی اودَ هغوی نه به ئیے روستو داخلوی نوملائك به اُوائي مشرانودَ دوی ته ﴿هَٰذَا فَوْجٌ﴾ غټ جماعت ته فوج وائي ﴿مُّقْتَحِمٌ﴾ په زور سره داخلولوته تنګ ځائے کښ ته اقتحام وائي۔ځکه چه دَ دوی ځایونه به په جهنم کښ تنګ وی ﴿لَا مَرْحَبًا
بِهِمْ﴾ دا قول دَ دوی دَ مشرانو دے او دا دعاءِ شرده یعنی دوی له دِفراخی نصیب نه شی یا جمله خبریه ده۔ ﴿قَالُوا بَلْ أَنتُمْ لَا مَرْحَبًا بِكُمْ ۖ أَنتُمْ قَدَّمْتُمُوهُ لَنَا﴾ تقدیم په طریقه دَ دعوت سره دے یعنی څوك چه داعی وی شرك ته نوهغه دپاره دوچند عذاب پکار دے لکه سورة احزاب(٦٨)کښ تیرشویدی ﴿وَقَالُوا رَبَّنَا آتِهِمْ ضِعْفًا مِّنَ الْعَذَابِ وَالْعَنْهُمْ لَعْنًا كَبِيرًا﴾ دا قول دَکشرانواومشرانودَ ټولودے اودے کښ اشاره ده لکه چه دَ دوی دَ تابعدارئے کولونتیجه ناکاره ښکاره شوه نو دارنګ دَ دوی دا ګمان هم غلط ثابت شوچه دوی به توحیدوالوته اَشرار وئیل اوحال دا دے چه هغوی په جهنم کښ نیشته معلومه شوه چه هغوی اخیار وو او داعادت دَ جاهلانو اوس هم جاری دے چه دوی داعیانو دَ توحید او سنّت اوهرحق پرستوته شریان وائي خوقیامت کښ به دوی ته معلومه شی۔

[٦٥،٦٦] دا دعویٰ دَ توحید ده تفریع ده په ماقبل بیان باندے او دا متعلق دے دَ ابتداء دَ سورة سره په ذکردَ صدق رسول او توحید سره او دَ اثبات دَ توحید دپاره ئیے پنځه اسماء الٰهیه ذکرکړیدی۔

[٦٧،٦٨] دا بیان دَ عظمت شان دَ مسئلے دَ توحید دے او ورسره زجردے اعراض کوؤنکوته۔

[٦٩] دَ دے ایت نه ترآخره پورے دریم باب دے په دے کښ صدق رسول بیانوی په نفی دَ علم غیب سره دَ هغه نه ۔ بیا ذکر دَ ابتلاء دے ملائکو او ابلیس باندے په امردَ سجود سره آدمؑ ته اوآخرکښ صدق دَ رسول اودَ قرآن ذکرکوی دپاره دَ موافقت دَ اول دَسورة سره۔ په دے (٦٩)کښ صدق دَ رسول ذکرکوی

مُّبِيْنٌ ﴿٧٠﴾ اِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلٰٓئِكَةِ اِنِّيْ خَالِقٌۢ بَشَرًا مِّنْ طِيْنٍ ﴿٧١﴾ فَاِذَا سَوَّيْتُهٗ وَنَفَخْتُ فِيْهِ مِنْ رُّوْحِيْ فَقَعُوْا
لَهٗ سٰجِدِيْنَ ﴿٧٢﴾ فَسَجَدَ الْمَلٰٓئِكَةُ كُلُّهُمْ اَجْمَعُوْنَ ﴿٧٣﴾ اِلَّآ اِبْلِيْسَ ؕ اِسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿٧٤﴾ قَالَ يٰٓاِبْلِيْسُ
مَا مَنَعَكَ اَنْ تَسْجُدَ لِمَا خَلَقْتُ بِيَدَيَّ ؕ اَسْتَكْبَرْتَ اَمْ كُنْتَ مِنَ الْعَالِيْنَ ﴿٧٥﴾ قَالَ اَنَا خَيْرٌ مِّنْهُ ؕ خَلَقْتَنِيْ

ښکاره یم (۷۰) کله چه اُوئیل ستا رب ملائکو ته یقیناً ځه پیدا کوؤنکے یم بشر لره دَ خټو نه (۷۱) نو کله چه ځه ئے برابر کړم او پوکمه په هغه کښ دَ روح خپل نه نوشئے هغه ته سجده کؤنکی (۷۲) نو سجده اوکړه ملائکو ټولو په جمع سره (۷۳) مګر ابلیس لوئي اوکړه او ووُ دے دَ کافرانو نه (۷٤) اُوئیل الله تعالیٰ اے ابلیس ځه څیز منع کړے ته دَ سجده کولو نه هغه چاته چه ما جوړ کړیدے په دواړه لاسونو خپلو ایا لوئي دِ اوکړه او که ئے ته دَ اوچت خلقونه (۷۵) اُوئیل هغه ځه غوره یم دَ دهٔ نه تا ځه پیدا کړے یم

دَ پاره دَ رد په معرضینو چه تیرشوی ایت کښ هغوی ته زجر ووُ حاصل داچه تاسوپه څه وجے سره اعراض کوئے حال دا دے چه دے پیغمبر په خپل علم سره دا خبرے نه دی کړی بلکه په وحی سره ورته خبر ورکړے شوے دے ۔ دَ دے ایت په تفسیر کښ مشهور دوه قولونه دی ۔ اول قول دادے چه ﴿بِالْمَلَاِ الْاَعْلٰى﴾ نه مراد ملائك دی او اختصام نه مراد بحث کول دی دَ ملائکو او دَ الله تعالیٰ په باره دَ استخلاف دَ آدمﷺ او دَ سجدے کښ چه په سورهٔ بقره کښ ذکرشوی دی۔ اختصام صرف سوال اوجواب ته ویلے کیږی جګړه پورے خاص نه دے دویم قول حدیث دے په روایت دَ عبد الرحمٰن بن عائِش سره چه ترمذی اوحاکم او تفسیرخازن او قرطبی وغیرهم دلته ذکرکړے دے او اختصام په کفاراتو اورفع درجاتو کښ دے لیکن اول قول صحیح دے ځکه چه روستو دَ هغے ذکر را روان دے په ﴿اِذْقَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَآئِكَةِ﴾ سره دویم داچه دغه حدیث ثابت نه دے تفصیل ئے په تفسیرخازن کښ دے۔

[۷۰] په دے کښ سبب دَ علم دَ نبیﷺ ذکرکوی چه هغه وحی ده اوعلم چه سبب ته محتاج وی هغه ته شرعاً علم غیب نشی وئیلے کیدلے۔

[۷۱،۷۲،۷۳،۷٤] په دے ایاتونو کښ تفصیل دَ یختصمون دے اودلته دا واقعه ذکرکوی دپاره دَ دے چه په ملائکواوپه ابلیس باندے هم ابتلاء کړے شوے ده په مکلّف کولودَ دوی په سجود آدمﷺ ته اوپه چا باندے چه ابتلاء رائجی نو هغه دَ الله تعالیٰ سره شریك یاشفیع قهری نشی کیدلے اودا رد دے په مشرکین بالملائکة والجن باندے ﴿رُوْحِيْ﴾ هغه روح چه په هغے کښ دَ الله تعالیٰ نه سیوا دَ بل چا ملکیت اواختیارنیشته اوصرف دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه هیڅ ظاهری سبب ئے نیشته دَ دے خصوصیت دَوجے نه الله تعالیٰ ته ئے اضافت اوشو﴿فَسَجَدَ الْمَلَآئِكَةُ﴾ اودا سجود دَ تحیه (سَلام) کولوپه طریقه سره ده چه مخکنو امتونوکښ جائزوه لیکن صرف په سر خکته کولو سره وه په طریقه دَ عبادت اوسرپه زمکه کیخودلو سره نه وه ۔او زمونږ امت کښ تحیه صرف السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته وئیل دی او ورسره مصافحه او معانقه کول هم په سنّت سره ثابت دی لیکن سرخکته کول په وخت دَ سلام کښ منعه دی مخکښ هم دا بحث شپږ سورتونوکښ تیرشوے دے۔

[۷۵] مخکښ الله تعالیٰ علت دَ سجدے نه کولو ذکرکړوچه استکبار دے لیکن بیاهم دَ ابلیس نه تپوس

مِنْ نَّارٍ وَّخَلَقْتَهٗ مِنْ طِيْنٍ ﴿۷۶﴾ قَالَ فَاخْرُجْ مِنْهَا فَاِنَّكَ رَجِيْمٌ ﴿۷۷﴾ وَّاِنَّ عَلَيْكَ لَعْنَتِيْٓ اِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ ﴿۷۸﴾
قَالَ رَبِّ فَاَنْظِرْنِيْٓ اِلٰى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ ﴿۷۹﴾ قَالَ فَاِنَّكَ مِنَ الْمُنْظَرِيْنَ ﴿۸۰﴾ اِلٰى يَوْمِ الْوَقْتِ الْمَعْلُوْمِ ﴿۸۱﴾ قَالَ
فَبِعِزَّتِكَ لَاُغْوِيَنَّهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿۸۲﴾ اِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ الْمُخْلَصِيْنَ ﴿۸۳﴾ قَالَ فَالْحَقُّ ۙ وَالْحَقَّ اَقُوْلُ ﴿۸۴﴾ لَاَمْلَـَٔنَّ
جَهَنَّمَ مِنْكَ وَمِمَّنْ تَبِعَكَ مِنْهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿۸۵﴾ قُلْ مَآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ وَّمَآ اَنَا مِنَ الْمُتَكَلِّفِيْنَ ﴿۸۶﴾ اِنْ
هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿۸۷﴾ وَلَتَعْلَمُنَّ نَبَاَهٗ بَعْدَ حِيْنٍ ﴿۸۸﴾ ع

دَ اور نه او دے دِ پیدا کړے دے دَ خټے نه (۷۶) اُوئیل اللّٰه تعالیٰ اوځه دَ دے ځائے نه یقیناً ته رټلے شوے ئے (۷۷) او یقیناً په تا باندے لعنت زما دے تر ورځے دَ جزا پورے (۷۸) اُوئیل ابلیس اے ربه زما مهلت راکړه ماله تر ورځے دَ دوباره ژوند پورے (۷۹) اُوئیل اللّٰه تعالیٰ یقیناً ته ئے دَ مهلت درکړے شوؤ نه (۸۰) تر ورځے دَ وخت مقرر پورے (په علم دَ اللّٰه تعالیٰ کښ) (۸۱) اُوئیل ابلیس نو قسم دے ستا په عزت باندے خامخا گمراه به کړم ټولو لره (۸۲) مګر بندګان ستا دَ دوی نه چه بچ ساتلے شوی دی (۸۳) اُوئیل اللّٰه تعالیٰ پس دا خبره حقه ده او حق وایم ځه (۸۴) خامخا به ډک کړم جهنم ستانه او دَ هغه چانه چه ستا تابعدار دی دَ دوی ټولو نه (۸۵) ته اُوایه نه غواړم ستاسو نه په دے باندے هیڅ مزدوری او نه یم ځه دَ دروغ جوړوؤنکو نه (۸۶) نه دے دا مګر نصیحت دے دپاره دَ عالمینو (۸۷) او خامخا پوهه به شئے په خبر دَ دهٔ باندے ځه وخت روستو (۸۸)

کوی دَ دے دپاره چه دَ دهٔ دروغ هم ښکاره شی۔

[دَ ۷۶ نه تر ۸۳] پورے دا جواب دَ ابلیس دے په اختیار دَ دویم شِق سره یعنی ځه په حقیقت کښ لوے یم او دا ښکاره دروغ دی ﴿خَلَقْتَنِيْ مِنْ نَّارٍ﴾ دا دلیل دَ دعوے دے اودَ دلیل دویمه مقدمه پټه ده یعنی اورغوره دے دَ خټونه نو نتیجه ئے داشوه چه ځه دَ دهٔ نه غوره یم ۔ او دا دلیل یعنی (کبریٰ) باطله ده ځکه چه دَ خټو فائدے دَ اور نه ډیرے دی ﴿قَالَ فَبِعِزَّتِكَ﴾ په دے قسم کولو کښ دَابلیس خباثت نفسانی باندے دلیل دے یعنی وائې چه ځه ستا عزت منم او دَ آدم علیه السلام عزت نه منم اوحال دا چه دَ هغه عزت ئے په خَلَقْتُ بِيَدَيَّ، سره ذکر کړے دے۔

[۸۴، ۸۵، ۸۶، ۸۷] روستودَ زجرنه معرضینوته تخویف وژهغوی ته په عاقبت دَ ابلیس سره اوس ذکرکوی صدق دَ نبی علیه السلام په اوّل ایت کښ اوصدق دَ قرآن کریم په دویم ایت کښ۔ اوهرکله چه مانع دَ صدق نه دوه څیزونه دی یوطمع دَ اجر دَ عوض چه دَ هغے په وجه پوره حق نشی بیانیدے او دویم دَ ځان نه خبرے جوړلول نو دا دواړه څیزونه ئے نفی کړل ﴿الْمُتَكَلِّفِيْنَ﴾ تکلف عام دے دَ ځان نه خبرے جوړول اوځان کښ دَ داسے صفتونو دعویٰ کول چه هغه په کښ نه وی او بغیر دَ علم نه فتویٰ ورکول۔ او په دے کښ حدیث دَ عبد اللّٰه بن مسعود رضی الله عنه دے: "چه ځوك په یوخبره اومسئله باندے علم لری نوپه هغے باندے دے قول کوی اوځوك چه دَ یومسئلے علم نه لری نواودِوائی ځه نه پوهیږم ځکه چه داهم علم دے چه په کومه خبره نه پوهیږی او اوائے چه ځه نه پوهیږم او بیائے دا آیت کریمه اولوستلو۔"

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سُوْرَةُ الزُّمَرِ (۳۹) مَكِّيَّةٌ (۵۹) | اٰيَاتُهَا ۷۵ رُكُوْعَاتُهَا ۸

تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ ① اِنَّاۤ اَنْزَلْنَاۤ اِلَيْكَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ فَاعْبُدِ اللّٰهَ مُخْلِصًا لَّهُ

نازلول دَ دے کتاب دی دَ طرف دَ اللّٰه تعالیٰ نه چه زورآور دے حکمتونو والا دے (۱) یقیناً نازل کړیدے مونږ تاته د ا کتاب دَ حق سکاره کولو دپاره نو بندګی کوه اللّٰه تعالیٰ لره خالص کوه هغه لره

(بقیه تفسیر دَ سورة صٓ)

[۸۸] دا زجردے چه اوس تاسوانکارکوئے لیکن څه وخت روستوبه په دنیا کښ په وخت دَ عذاب کښ یا په وخت دَ مرګ کښ یا په قیامت کښ به دَ حقیقت نه خبرشئے ﴿نَبَاَهٗ﴾ حقیقت حال دَ قرآن یا خبر دَ عاقبت دَ انکار دَ دهٗ یا کوم خبرونه چه قرآن درکړیدی، دالفظ دے ټولوته شامل دے۔

سورة زمر

او دَ دے بل نوم سورة غُرَف دے۔

ربط: دَ دے سورة دَ ماقبل سره په ډیرو طریقوسره دے اوله طریقه دا ده چه په تیرشوی سورتونوکښ عجزاو ابتلاګانے دَ بزرګانوذکرکړے معلومه شوه چه هغوی دَ اللّٰه تعالیٰ شریکان او زوراور سفارشیان نشی کیدے نو اوس په دے سورة کښ دَ هغے نتیجه ذکرکوی چه هغه توحید فی العبادت دے۔ دویمه طریقه چه سورة صٓ کښ انکار دَ دوی دَ توحید نه ذکرکړو نو په دے سورة کښ تفصیل دَ عقیدے دَ مشرکانو اوعقلی دلیلونه په توحید باندے ذکرکوی۔

دعویٰ دَ سورة: رد دے په شرك فی العبادات والالوهیة باندے په عقلی دلیلونوسره اوپه ردکولودَ ټولو قسمونودَ شرك اعتقادی سره (شرك فی العلم، شرك فی التصرف،شرك فی العبادت، شرك فی الدعاء) رد په اتخاذ الولد لِلّٰه او رد په شفاعتِ قهریه باندے او په ذکر دَ مقابلے په مینځ دَ حال دَ مؤحدینو اودَحال دَ مشرکانوکښ په صفاتو اوپه جزاګانو سره۔

خلاصه دَ سورة: دا سورة تقسیم دے پنځه بابونوته اول باب تر(۲۱) پورے دے پدیکښ ذکردَ صدق دَ قرآن دے او بیا ذکر دَ مقصد دَ قرآن چه توحید فی العبادة دے بیا رد دے په دوه عقیدو دَ مشرکانو باندے یوعقیده دَ وسیلے شرکیئے اودویمه عقیده دَ اتخاذ الولد ده بیا دوه عقلی دلیلونه دی چه په هغے کښ خالقیت دَ اللّٰه تعالیٰ ذکرکوی بیا دوه زجرونه دی بیا بیان دَ تقابل دَ مؤحد او دَ مشرك دے په دوه اياتونوکښ۔ بیا په څلورو اياتونوکښ په دلائلووحییوسره مسئله دَ توحید فی العبادت ذکرکوی بیا تخویف اخروی دوه اياتونوکښ بیا تقابل دَ فریقینو دے په څلورو اياتونوکښ۔

تفسیر

[۱] په دے ایت کښ ذکردَ صدق دَ قرآن کریم دے او تعریف دَ هغه دے په دے صفت سره چه منزل من اللّٰه دے افتراء نه ده۔

الدِّيْنَ ۝٢ اَلَا لِلّٰهِ الدِّيْنُ الْخَالِصُ ؕ وَالَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖۤ اَوْلِيَآءَ ۘ مَا نَعْبُدُهُمْ اِلَّا لِيُقَرِّبُوْنَاۤ اِلَى اللّٰهِ
زُلْفٰى ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ فِيْ مَا هُمْ فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِيْ مَنْ هُوَ كٰذِبٌ كَفَّارٌ ۝٣
لَوْ اَرَادَ اللّٰهُ اَنْ يَّتَّخِذَ وَلَدًا لَّاصْطَفٰى مِمَّا يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ۙ سُبْحٰنَهٗ ؕ هُوَ اللّٰهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ ۝٤ خَلَقَ
السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ ۚ يُكَوِّرُ الَّيْلَ عَلَى النَّهَارِ وَيُكَوِّرُ النَّهَارَ عَلَى الَّيْلِ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ؕ كُلٌّ

بندگی(۲) خبر شئے خاص اللّٰه تعالیٰ لره دین (بندگی) خالص دے او هغه کسان چه نیولے دی سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه مددګاران (وائي) بندګی نه کوؤ مونږ دَ دوی مګر دے دپاره چه نزدے کړی مونږه اللّٰه تعالیٰ ته په نزدے کولو سره یقیناً اللّٰه تعالیٰ به فیصله اوکړی په مینځ دَ دوی کښ په هغه څیز کښ چه دوی په هغے کښ اختلاف کوی یقیناً اللّٰه تعالیٰ توفیق نه ورکوی هغه چاته چه ډیر دروغژن دے ډیر کفر کوؤنکے دے (۳) که غوختلے اللّٰه تعالیٰ چه جوړ کړی ځان لره ولد خامخا غوره کړے به ئے ووڑ دَ هغه چانه چه پیدا کوی هغه چه خوښ ئے شی پاك دے هغه دَ ولد نه هغه اللّٰه تعالیٰ دے یو زورآور دے (٤) پیدا کړی دی اسمانونه او زمکه دَ حق سټکاره کولو دپاره رانغاړی شپه په ورځ باندے او رانغاړی ورځ په شپه کښ اوپه خدمت کښ لګولے دے نمر او سپوږمئے دا ټول

[۲] په دے ایت کښ ذکر دَمقصد دَنزول قرآن دے چه دَهغے نه ئے اجمالی تعبیر کړے دے په بِالْحَقِّ سره۔ بیا تفصیل دے دَهغه مقصد چه حق دے په فَاعْبُدِ اللّٰهَ، سره چه توحید فی العبادت والالوهیت دے﴿مُخْلِصًا لَّهُ الدِّيْنَ﴾ دین په معنیٰ دَعبادت دے او اخلاص نه مرادتوحید دے ځکه چه عبادت بغیردَتوحیدنه معتبرنه دے اوپه دے کښ اشاره ده چه هرعبادت په نیت باندے موقوف دے۔

[۳] هرکله چه دَاخلاص دَ عبادت دَ اللّٰه نه ډیرخلق غافل ووپه شرك او په ریا وغیره کښ مبتلا وو نو دَ هغوی دَ تنبیه دپاره ئے په حرف دَ تنبیه سره او فرمائیل﴿اَلَا لِلّٰهِ الدِّيْنُ الْخَالِصُ﴾ اودا علت دَ امردَ اخلاص فی العبادت دے اَلْخَالِصُ، هغه عبادت دے چه خالی وی دَهرقسم شرك اوریاء او سمعة او دَ اجرت دنیویه وغیره نه او دَ مجاهدنه نقل دے چه دلته الدین شامل دے ټولو اوامرو اونواهیوته چه په ټولوکښ خلوص شرط دے دَپاره دَ صحت او دَ قبولیت۔ او بیا رد دے په مشرکین فی العبادت باندے چه څوك دَ اللّٰه تعالیٰ نه سیوا دَ مخلوق عبادت کوی اوبهانه کوی چه دازمونږ دپاره اللّٰه تعالیٰ ته دَ نزدیکت وسیلے دی ﴿مِنْ دُوْنِهٖۤ اَوْلِيَآءَ﴾ دا لفظ شامل دے تمام ماسوی اللّٰه تعالیٰ نه که ملائك وی یا انبیاء یا اولیاء اوهغه بتان چه دَ دوی په شکلونو باندے جوړ کړے شوی وی اودارنګ دَ هغوی قبرونوته هم شامل دے۔ دلته مراد دَ اولیاء نه معبودان دی﴿مَا نَعْبُدُهُمْ﴾ داجمله مستانفه ده جواب دَ سوال دے یعنی که دوی ته اوئیلے شی چه دَ غیر اللّٰه عبادتونه ولے کوئے ایادوی خدایان ګنړئے نو دوی جواب کوی چه خدایان ئے نه ګنړولیکن وسیلے ئے ګرځوو اللّٰه تعالیٰ ته نودَ دوی دَ رضاساتلودپاره دَدوی عبادت کوو۔

[٤] داهم زجراو رد دے په مشرکین فی العبادت باندے چه دوی عبادت دَ غیر اللّٰه کوی نو بهانه کوی چه دا دَ اللّٰه نازولی دی اللّٰه تعالیٰ دوی خپل نائبان ګرځولی دی او دوی ته ئے دَ الوهیت دَ کارونو اختیار ورکړے دے او دا معنیٰ دَ اتخاذ الولد ده نو په دے ایت کښ دَ دے عقیدے ردکوی او اوس هم داعقیده په

يَّجْرِيْ لِاَجَلٍ مُّسَمًّى ؕ اَلَا هُوَ الْعَزِيْزُ الْغَفَّارُ ۝٥ خَلَقَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ ثُمَّ جَعَلَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَ
اَنْزَلَ لَكُمْ مِّنَ الْاَنْعَامِ ثَمٰنِيَةَ اَزْوَاجٍ ؕ يَخْلُقُكُمْ فِيْ بُطُوْنِ اُمَّهٰتِكُمْ خَلْقًا مِّنْۢ بَعْدِ خَلْقٍ فِيْ ظُلُمٰتٍ
ثَلٰثٍ ؕ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ لَهُ الْمُلْكُ ؕ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ فَاَنّٰى تُصْرَفُوْنَ ۝٦ اِنْ تَكْفُرُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ عَنْكُمْ ۚ
وَلَا يَرْضٰى لِعِبَادِهِ الْكُفْرَ ۚ وَاِنْ تَشْكُرُوْا يَرْضَهُ لَكُمْ ؕ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰى ؕ ثُمَّ اِلٰى رَبِّكُمْ مَّرْجِعُكُمْ
فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ؕ اِنَّهٗ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ۝٧ وَاِذَا مَسَّ الْاِنْسَانَ ضُرٌّ دَعَا رَبَّهٗ

چلیږی دپاره دَ نیټے مقرر ے خبر شئے خاص اللّٰه تعالیٰ زورآور بخنه کوؤنکے دے (٥) پیدا کړی ئے تاسو دَ نفس یو نه بیا ئے پیدا کړے ده دَ هغه نه بی بی دَ هغه او پیدا کړی دی تاسو لره دَ څاروؤ نه اته جوړئے پیدا کوی تاسو په خیټو دَ میندو ستاسو کښ په یو پیدائش روستو دَ بل پیدائش نه په تیَرو دریو کښ دغه اللّٰه تعالیٰ رب ستاسو دے خاص هغه لره ده بادشاهی نیشته حقدار دَ بندګئے سیوا دَ هغه نه نو څه رنګ اړولے کیدیشئے تاسو (٦) که چرے کفر کوئے تاسونو یقیناً اللّٰه تعالیٰ بے حاجته دے ستاسونه او نه خوښوی بندګانو خپلو لره کفر کول او که چرے شکر کوئے تاسو نو خوښوی هغه تاسو لره اونه شی پورته کولے یوپیټی والا پیټے دَ ګناه دَ بل چا بیا به طرف دَ رب ستاسوته ګرځیدل ستاسو وی نو خبر به درکړی تاسوته په هغه عملونو چه تاسوئے کوئے یقیناً هغه ښه پوهه دے په هغه خبرو چه په سینو پورے خاص وی (٧) او کله چه اورسی انسان ته تکلیف نو رابلی رب خپل

دیرو جاهلانو کښ موجود ده ﴿لَوْ اَرَادَ اللّٰهُ اَنْ يَّتَّخِذَ وَلَدًا لَّاصْطَفٰى مِمَّا يَخْلُقُ﴾ یعنی که چرے اللّٰه تعالیٰ ولد نیولے نو ستاسو خوښے ته به ئے نه سپارلو بلکه پخپله خوښه به ئے نیولے وؤ اوتاسوته به ئے خبردرکړے وے لیکن اللّٰه تعالیٰ پخپل هیڅ کتاب کښ داخبرنه دے ورکړے چه فلانکے ولد دَ اللّٰه تعالیٰ دے۔

[٥] دَ توحید فی العبادت دَ اثبات دَ پاره دا اول دلیل عقلی دے او دا افاقی دلیل دے دلالت کوی چه اللّٰه تعالیٰ خالق دے او رب او متصرف دے په اجزاؤ دَ زمانه کښ چه شپه او ورځ دی او په اسبابو دَ تغیّر دَ زمانه کښ چه نمر او سپوږمئی دی۔

[٦] دا دویم دلیل عقلی انفسی دے په دے کښ هم خالقیت او تصرف دَ ربوبیت دَ اللّٰه تعالیٰ ئے ذکرکړے دے ﴿وَاَنْزَلَ لَكُمْ مِّنَ الْاَنْعَامِ﴾ انزل په معنیٰ دَ خلق دے تعبیر ئے په انزل سره کړے دے ځکه چه انعام ژوندی پاتے کیږی په بوټو سره او بوټی پیداکیږی په اوبو سره او اوبه دَ برے نه نازل کړے شویدی او دارنګ هریوپیدائش چه په آسمانی اسبابو سره وی نودَ هغے نه تعبیرکولے شی په انزال سره ﴿فِيْ ظُلُمٰتٍ ثَلٰثٍ﴾ یعنی مخلوق په یوه تیَره کښ هیڅ څیز نشی جوړولے او اللّٰه تعالیٰ په دریے تیَرو کښ برابر انسان جوړوی یوه تیَره دَ خیټے دَ موردویمه دَ رحِم(بچه دانی) دریمه دَ پریوان یعنی هغه باریکه پرده چه دَ بچی نه چاپیره وی۔

[٧] په دے آیت کښ ذکردَ فریقینودے روستودَ دلیلونونه۔ په اوله جمله کښ زجردے او اشاره ده چه ستاسو دَ کفر کولو ضرر او نقصان اللّٰه تعالیٰ ته نه رسی بلکه تاسوته رسیږی او په دویمه جمله کښ

مُنِيْبًا اِلَيْهِ ثُمَّ اِذَا خَوَّلَهٗ نِعْمَةً مِّنْهُ نَسِيَ مَا كَانَ يَدْعُوْٓا اِلَيْهِ مِنْ قَبْلُ وَجَعَلَ لِلّٰهِ اَنْدَادًا
لِّيُضِلَّ عَنْ سَبِيْلِهٖ ؕ قُلْ تَمَتَّعْ بِكُفْرِكَ قَلِيْلًا ۖ اِنَّكَ مِنْ اَصْحٰبِ النَّارِ ۝٨ اَمَّنْ هُوَ قَانِتٌ اٰنَآءَ
الَّيْلِ سَاجِدًا وَّقَآئِمًا يَّحْذَرُ الْاٰخِرَةَ وَيَرْجُوْا رَحْمَةَ رَبِّهٖ ؕ قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِيْنَ يَعْلَمُوْنَ وَالَّذِيْنَ
لَا يَعْلَمُوْنَ ؕ اِنَّمَا يَتَذَكَّرُ اُولُوا الْاَلْبَابِ ۝٩ قُلْ يٰعِبَادِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوْا رَبَّكُمْ ؕ لِلَّذِيْنَ اَحْسَنُوْا ع ١٥

اخلاص کوؤنکی هغه ته بیا چه کله ورکړی هغه ته نعمت دَ خپل طرف نه هیرکړی هغه چه دهٔ به رابلنه کوله (دَ اللّٰه تعالیٰ) هغے ته دَ دے نه مخکښ او جوړ کړی دی اللّٰه تعالیٰ لره شریکان دَ دے دپاره چه گمراه کوی خلق دَ لارے دَ اللّٰه تعالیٰ نه ته اُوایه مزے واخله په کفر خپل سره لږه زمانه یقیناً ته دَ اور والو نه ئیے (۸) ایا هغه څوك چه هغه طاعت کوؤنکے وی په وختونو دَ شپے کښ سجده کوؤنکے او اولاړ ویره کوی دَ اخرت نه او امید ساتی دَ رحمت دَ رب خپل نه ته اُوایه ایا برابر دی هغه کسان چه علم لری او هغه کسان چه علم نه لری یقیناً نصیحت قبلوی خالص عقل والا (۹) ته اُوایه اے بندګانو زما هغه کسان چه ایمان ئیے راوړے ویره کوئ دَ رب خپل نه د پاره دَ هغه کسانو چه اخلاص ئیے کړے دے

جواب سوال دے چه دَ کفر ضرر په اللّٰه تعالیٰ باندے نیشته نومنع کول ترینه ولے کوی؟ جواب اوشو حاصل داچه هیڅ مولیٰ دَ هرخپل مړي کفر(ناشکری) نه خوخوی نو اللّٰه تعالیٰ خو ډیر رحم کوؤنکے دے نو هغه دَ بندګانو دپاره کفر څرنګه خوښ کړی۔ اوپه دریمه جمله کښ بشارت دے په قبلولو دَ شکر او اشاره ده چه اللّٰه تعالیٰ ستاسو شکرته محتاج نه دے او په څلورمه جمله کښ جواب سوال دے چه دَ کفر ضرر په اللّٰه تعالیٰ باندے خونه راځی لیکن په هغه چاباندے راځی چه دَ گمراه کولو مشران وی نو جواب اوشو ﴿وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ﴾ اوبیا روستو جملو کښ تخویف دے اوهرکله چه دَ عملونو بنیاد دَ زړه نیت کول دی یعنی دارومدارئیے په زړه باندے دے نو آخر کښ ئیے اوفرمائیل ﴿اِنَّهٗ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ﴾۔

[۸] دا زجردے مشرك ته چه هغه فریق اول دے په تناقض دَ معاملے دَ دهٔ سره چه په حالت دَ ضرر کښ اللّٰه تعالیٰ ته فریادونه کوی اوپه حالت دَ نعمت کښ شرك کوی ﴿مُنِيْبًا اِلَيْهِ﴾ په معنیٰ دَ اخلاص او دَ توحید دے یعنی په اواز کولو کښ ورسره شریك نه جوړوی ﴿قُلْ تَمَتَّعْ﴾ یعنی سرهٔ دَ شرك اودَ کفر نه اللّٰه تعالیٰ دَ دهٔ دعاګانے قبلوی اونعمتونه ورکوی۔ دا دَ دنیا متاع او فائدے دی چه کافرانوته هم ورکیدے شی دا دلیل نه دے چه دے دَ حق تابع دے۔

[۹] په دے کښ حال دَفریق ثانی ذکرکوی په طریقه دَ تقابل دَ دواړو ډلوسره په صفتونو دَ عمل اودَعلم کښ۔ دَ مؤمن دریے عملی صفتونه ئیے ذکرکړی دی اول صفت قَانِت دے مراد دَ قنوت نه طاعت دے ﴿اٰنَآءَ الَّيْلِ﴾ هرکله چه دَ شپے قیام او مونځ کوی نومعلومه شوه چه دَ ورځے خامخا کوی اوداصفت دَمحبّت دے۔ دویم صفت ﴿يَحْذَرُ الْاٰخِرَةَ﴾ داصفت دَ خوف دے دریم ﴿وَيَرْجُوْا رَحْمَةَ رَبِّهٖ﴾ داصفت دَ رجادے۔ هرکله چه په دے سورة کښ مسئله دَ عبادت ده نو په دے ایت کښ دَ عبادت اجزاء ئیے ذکرکړل ﴿قُلْ هَلْ يَسْتَوِيْ﴾ دا فرق دے په صفت دَ علم اوعدم علم کښ یعنی مؤحد چه درے صفتونه مخکښ لری دے عالم دے اومشرك چه دغه صفتونه په کښ نیشته هغه جاهل دے اوپه دے کښ اشاره ده چه کوم عالم کښ دغه

فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةٌ ؕ وَاَرْضُ اللّٰهِ وَاسِعَةٌ ؕ اِنَّمَا يُوَفَّى الصّٰبِرُوْنَ اَجْرَهُمْ بِغَيْرِ حِسَابٍ ⑩
قُلْ اِنِّيْٓ اُمِرْتُ اَنْ اَعْبُدَ اللّٰهَ مُخْلِصًا لَّهُ الدِّيْنَ ⑪ وَاُمِرْتُ لِاَنْ اَكُوْنَ اَوَّلَ الْمُسْلِمِيْنَ ⑫
قُلْ اِنِّيْٓ اَخَافُ اِنْ عَصَيْتُ رَبِّيْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ⑬ قُلِ اللّٰهَ اَعْبُدُ مُخْلِصًا لَّهٗ دِيْنِيْ ⑭

په دے دنیا کښ خائسته حال دے او ملك (زمکه) دَ اللّٰه تعالیٰ فراخه ده یقیناً پوره به ورکیدیشی صابرانو ته ثواب دَ عملونو دَ هغوی بے حسابه (۱۰) ته اُوایه یقیناً حکم کړے شویدے ماته چه بندګی کوؤم دَ اللّٰه تعالیٰ چه خالص کوؤنکے یم هغه لره بندګی (۱۱) او حکم کړے شویدے ماته چه یم دِ څه رومبے دَ مسلمانانو نه (۱۲) ته اُوایه یقیناً څه ویریګم که چرے نافرمانی او کړم دَ حکم دَ رب خپل دَ عذاب دَ ورځے لویے نه (۱۳) ته اُوایه اللّٰه تعالیٰ لره بندګی کوؤم خالص کؤم هغه لره بندګی خپله (۱٤)

درے صفتونه نه وی نودے هم په نیز دَ اللّٰه تعالیٰ جاهل دے او دا دلیل دے په فضیلت دَ علم باندے لیکن مراد دَ علم نه علم دَ توحید اوشریعت دے سرهٔ دَ عمل نه لکه ابوحیان وئیلی دی چه مراد دَ علم نه هغه دے چه معرفت دَ اللّٰه تعالیٰ پرے حاصلیږی او دَ سخط دَ اللّٰه تعالیٰ نه پرے بچ کیږی۔

[۱۰] هرکله چه بیان کړے شواوچت شان دَ ایمان والو اوس دَ هغوی فرائض ذکرکوی۔ تقوٰی، احسان، هجرت، صبر او په دے باندے بشارت بیانوی ﴿قُلْ يٰعِبَادِ﴾ دا امردے رسول اللّٰهﷺ ته په رسولوَ خطاب دَ اللّٰه تعالیٰ سره مؤمنانوته ځکه چه کلام دَ رسول کلام دَ مرسل وی یعنی اوایه اے رسولَه زما دَ طرف نه(چه اللّٰه تعالیٰ وائي) اے بندګانو زما۔ اوقول دَ جاهلانو غلط دے چه هغوی وائي چه دَ دے آیت نه معلومه شوه چه مونږه مؤمنان بندګان دَ رسول یوځکه دا دَ دے سورة دَ دعوے نه هم خلاف راځی چه فاعبد اللّٰه مخلصاً له الدین، نو دا قول دَ جاهلانو تحریف او اثبات دَ شرك دے﴿وَاَرْضُ اللّٰهِ وَاسِعَةٌ﴾ دا ترغیب دے هجرت کولوته یعنی هرکله چه امردَ تقویٰ اوترغیب احسان ته ذکرکړے شونووهم راغے چه بعضِ وخت په یوملك کښ په دے باندے عمل کول ګران شی نو خلاف کول به جائزوی؟ نوجواب اوشوچه خلاف به نه کوی بلکه هغه ملك دِ پریږدی په هجرت کولوسره اوهرکله چه دَ هجرت په تکالیفو باندے دَصبرکولوضرورت دے نوورپسے جمله کښ دَ هغوی بشارت ذکرکړے شو۔

[۱۱،۱۲،۱۳،۱٤] دا وحي دلیلونه دَپاره دَ دعوے دَ سورة دی چه توحید فی العبادت دے او دے ته طریقے دَ تعلیم وئیلے کیږی اوجواب دَ سوال دے یعنی هرکله چه مؤحد هجرت کوی نومشرکین سوال کوی چه هجرت ولے کوے نودے به اُوائي چه ماموریم په توحید فی العبادت سره اوهغه په دے ملك کښ مشکل دے ځکه هجرت کوؤم بیا سوال اوشوچه اعمال قلبیه پټ کیدے شی هغه کوه لیکن ظاهری اعمال مه کوه نوهجرت ته حاجت نه راځی نودے به جواب اوکړی ﴿وَاُمِرْتُ لِاَنْ اَكُوْنَ اَوَّلَ الْمُسْلِمِيْنَ﴾ مراد دَ اسلام نه ظاهری عملونه دی چه داهم مامور بهادی دا څه نشم پریخودلے۔ بیاسوال راغے چه اګرچه تاته امرشوے دے لیکن کیدے شی چه دا امردَ وجوب دپاره نه وی نو مخالفت کول ترینه جائزدی نوجواب به اوشی په دے جملے سره ﴿قُلْ اِنِّيْٓ اَخَافُ اِنْ عَصَيْتُ﴾ یعنی دَ دے امرخلاف کول سبب دَ لوے عذاب دی۔ بیا روستوَ سوال جواب نه بیان دَ جداوالی دَ لارے دَ مؤحد او دَ مشرك دے په دے لفظ سره ﴿قُلِ اللّٰهَ

فَاعْبُدُوْا مَا شِئْتُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ ؕ قُلْ اِنَّ الْخٰسِرِيْنَ الَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ وَاَهْلِيْهِمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ
اَلَا ذٰلِكَ هُوَ الْخُسْرَانُ الْمُبِيْنُ ﴿١٥﴾ لَهُمْ مِّنْ فَوْقِهِمْ ظُلَلٌ مِّنَ النَّارِ وَمِنْ تَحْتِهِمْ ظُلَلٌ ؕ ذٰلِكَ يُخَوِّفُ
اللّٰهُ بِهٖ عِبَادَهٗ ؕ يٰعِبَادِ فَاتَّقُوْنِ ﴿١٦﴾ وَالَّذِيْنَ اجْتَنَبُوا الطَّاغُوْتَ اَنْ يَّعْبُدُوْهَا وَاَنَابُوْٓا اِلَى اللّٰهِ لَهُمُ
الْبُشْرٰى ۚ فَبَشِّرْ عِبَادِ ﴿١٧﴾ الَّذِيْنَ يَسْتَمِعُوْنَ الْقَوْلَ فَيَتَّبِعُوْنَ اَحْسَنَهٗ ؕ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ
هَدٰىهُمُ اللّٰهُ وَاُولٰٓئِكَ هُمْ اُولُوا الْاَلْبَابِ ﴿١٨﴾ اَفَمَنْ حَقَّ عَلَيْهِ كَلِمَةُ الْعَذَابِ ؕ اَفَاَنْتَ تُنْقِذُ مَنْ

نو بندګی کوئے دَ هغه چاچه غواړئے تاسو سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه ته اُوایه یقیناً پوره تاوان کښ دی هغه کسان چه تاوانی کړل ځانونه او بال بچ خپل لره په ورځ دَ قیامت خبر شئے دا تاوان ښکاره دے (١٥) دوی لره به دَ پورته طرف دَ دوی نه سوری وی دَ اور نه او لاندے دَ دوی به سوری وی دا ویره ورکوی اللّٰه تعالیٰ په دے سره بندګانو خپلو ته اے بندګانو زما نو ویره کوئے زمانه (١٦) او هغه کسان چه ډه کوی دَ هر طاغوت دَ بندګئے کولو دَ هغه نه او ګرځی اللّٰه تعالیٰ ته په اخلاص سره دوی لره خوشحالئ دی نو زیرے ورکړه بندګانو زما ته (١٧) هغه کسان دی چه غوږ کیدی وینا ته نو تابعداری کوی دَ ډیر ښائسته دَ هغے نه دغه کسان هغه دی چه هدایت کړے دے دوی ته اللّٰه تعالیٰ او دغه کسان دوی خالص عقل والا دی (١٨) ایا هغه څوك چه پوره شوے وی په هغه باندے فیصله دَ عذاب نو ایا ته به بچ کړے هغه چا لره

اَعْبُدُ مُخْلِصاً لَّهٗ دِيْنِيْ﴾۔

[١٥،١٦] مخکښ ئے لاردَمؤحد ذکرکړه نوپه دیکښ لاردَ مشرك ذکرکوی چه عبادت کول دَ ماسوی اللّٰه دی او مقصد په دے امرکښ زجردے دَ دے وجے نه ورپسے تخویف دَ عذاب ئے ذکرکړے دے۔ او ورپسے دَ خسران تفصیل ذکرکوی په ﴿لَهُمْ مِّنْ فَوْقِهِمْ ظُلَلٌ﴾ سره یعنی اوردَ جهنم به په دوی باندے دَ هرطرف نه احاطه کوی ظُلَلٌ نه مراد طبقے دی پشان دَ غټوورځواوپورته ظلل ته غواښ اولاندے ته مهاد وئیلے شویدے په سورة اعراف (٤١) کښ۔ بیا سوال راغے چه په دے عذابونو ذکرکولوکښ څه فائده ده عنادیان خونه منی نو جواب ئے اوکړو په ﴿ذٰلِكَ يُخَوِّفُ اللّٰهُ بِهٖ عِبَادَهٗ﴾ سره یعنی دَ دے نه فائده انابت والا کسان اخلی بیا ئے دَ دے عذابونونه دَ بچ کیدلو طریقه بیان کړه ﴿يٰعِبَادِ فَاتَّقُوْنِ﴾ سره۔

[١٧،١٨] مخکښ حال دَ فریق دَمنکرینوذکرشوسرهٔ دَ تخویف نه اوس په مقابله دَ هغوی کښ ذکر کوی حال دَمؤحدینو اوهغوی ته بشارت او دَ هغوی شپږ صفتونه ذکرکوی ﴿الطَّاغُوْتَ﴾ مبالغه ده په طغیان کښ په حقیقت کښ هغه چاته وئیلے کیږی چه ډیر زیات سرکش اوګمراه وی شیطان انسی اوجنّی پکښ داخل دی او مجازاً هرمعبود من دون اللّٰه باندے اطلاق کیږی لکه بُتان، قبرونه دَ اولیاؤ وغیره ځکه عبادت دَ دوی سبب دَ ګمراهئی دے دا اطلاق دَ سبب دے په مسبّب باندے دا خطیب شربینی په سراج المنیرکښ لیکلی دی ﴿لَهُمُ الْبُشْرٰى﴾ په زړه کښ به خوشحاله وی په دنیا کښ اوپه وخت دَ ځنکدن کښ به ملائك بشارت ورکوی او دارنګ په وخت دَبعث بعد الموت اومیدان حشراوموقف دَ حساب کښ دے ټولوته عام دے ځکه ئے مطلق ذکرکړے دے، دَ﴿الْقَوْلَ﴾ نه مراد قرآن او حدیث دی دا په

فِي النَّارِ ﴿١٩﴾ لٰكِنِ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ لَهُمْ غُرَفٌ مِّنْ فَوْقِهَا غُرَفٌ مَّبْنِيَّةٌ ۙ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ؕ
وَعْدَ اللّٰهِ ؕ لَا يُخْلِفُ اللّٰهُ الْمِيْعَادَ ﴿٢٠﴾ اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَسَلَكَهٗ يَنَابِيْعَ فِي الْاَرْضِ ثُمَّ
يُخْرِجُ بِهٖ زَرْعًا مُّخْتَلِفًا اَلْوَانُهٗ ثُمَّ يَهِيْجُ فَتَرٰىهُ مُصْفَرًّا ثُمَّ يَجْعَلُهٗ حُطَامًا ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَذِكْرٰى

چه په اور کښ همیشه دی (۱۹) لیکن هغه کسان چه ویره کوی د رب خپل نه دوی لره بالاخانے دی چه پورته د هغے نه نورے بالاخانے دی پخے بهیږی لاندے د هغے نه نهرونه وعده کړے ده الله تعالیٰ خلاف نه کوی الله تعالیٰ د وعدے خپلے نه (۲۰) ایا نه ګورے ته چه یقیناً الله تعالیٰ راوروی د اسمان د طرف نه اوبه نو چلوی هغے لره چینے په زمکه کښ بیا را اوباسی په هغے سره فصل چه مختلف دی رنګونه د هغے بیا اوچ شی نو وینے ته هغه زیړ بیا اوګرځوی هغے لره مات رامات یقیناً په دے کښ خامخا نصیحت دے

توجه سره آوری ځکه استماع قصد د آوریدلوته وئیلے کیږی یا مراد د قول نه مطلق خبرے دی حق او باطل بے دلیله اوپه دلیل سره، بنه او بدے۔ نو د دے استماع کوی دپاره د دے چه حق اوباطل پکښ معلوم کړی۔ ﴿فَيَتَّبِعُوْنَ اَحْسَنَهٗ﴾ یعنی د علم نه روستو عمل کول دی هرکله چه مراد د قول نه قرآن او حدیث وی نو مراد د احسن نه مقابل د حسن او د جائز دے اوهغه په عباداتو معاملاتو ټولو کښ شته۔ مثلاًپه مونځ کښ احسن دا دے چه پوره مشتمل وی په شرطونواوارکانواوموافق وی د سنّت د نبی ﷺ سره اوپه اختلافی مواضعوکښ په راجح طریقه باندے عمل وی اوکه مشتمل وی په مکروهاتوباندے نوجائزبه شی لیکن احسن نه دے دارنګ په معاملاتو کښ په چا باندے دین (قرض) وی نو چه معاف ئے کړی یا ورله مهلت ورکړی او دارنګ په مذاهبوکښ چه کوم مذهب د دلیل په لحاظ سره راجح وی په هغے باندے عمل اوکړی او دارنګ یو طرف ته اصح حدیث اتفاقی وی اوبل طرف ته صحیح حدیث اختلافی وی لکه احادیث د رفع الیدین په مونځ کښ ماسیوا د اول تکبیرنه داصحیح اتفاقی دی او احادیث د ترك د رفع الیدین اختلافی صحیح دی۔ او دارنګ واجب مقدم کوی په مستحب باندے او مستحب مقدم کوی په مباح باندے نو دا ټول کارونه احسن دی۔ اوهرکله چه مراد د اَلْقَوْلَ، نه مطلق وی نود احسن نه مراد مقابل د سیئی(بدئے) دے یعنی مسائل اواحکام او خبرے هرقسم اوری لیکن عمل په هغے باندے کوی چه په دلیل شرعی سره ثابت وی۔ نوپه دے کښ اشاره ده چه سرهٔ د علم نه په چاپسے بے دلیله تقلیدنه کوی۔

[۲۰،۱۹] په دے دواړه ایاتونوکښ مقابله د فریقینوپه جزا سزاکښ بیانوی اول تخویف دے اودویم بشارت دے ﴿كَلِمَةُ الْعَذَابِ﴾ مراد د دے نه فیصله د تقدیر ده په اشقیاؤ باندے یا مراد ترینه هغه قول دے چه په اخر د سورة ص(۸۵) ذکرشوے دے ﴿لٰكِنِ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا﴾ په دے کښ بشارت ذکرکوی دویم فریق لره هرکله چه په(۱۶)کښ د منکرینودپاره عذاب دَبره طرف اولاندے طرف نه ذکرکړے وؤ نوپه دے ایت کښ د جنتیانودَپاره لاندے باندے غرف ذکرکوی (لٰکن) تفسیرقرطبی کښ وئیلی دی چه دا لٰکن دلته د استدراك دَپاره نه دے ځکه چه مخکښ نفی نیشته بلکه دَپاره د انتقال د یو قصّے نه بلے قصے ته دے ﴿مَبْنِيَّةٌ﴾ دا لفظ د دے فائدے دَپاره دے چه د دنیا د بنګلوچتونه چه ځومره اوچت ځی نوکمزوری وی اود جنّت چتونه ټول مضبوط اومحکم دی اوپه حدیث مرفوع کښ وارد دی چه بخاری اومسلم نقل کړے دے چه

لِأُولِي الْأَلْبَابِ ﴿٢١﴾ أَفَمَن شَرَحَ اللَّهُ صَدْرَهُ لِلْإِسْلَامِ فَهُوَ عَلَىٰ نُورٍ مِّن رَّبِّهِ ۚ فَوَيْلٌ لِّلْقَاسِيَةِ قُلُوبُهُم
مِّن ذِكْرِ اللَّهِ ۚ أُولَٰئِكَ فِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴿٢٢﴾ اللَّهُ نَزَّلَ أَحْسَنَ الْحَدِيثِ كِتَابًا مُّتَشَابِهًا مَّثَانِيَ ۖ تَقْشَعِرُّ مِنْهُ
جُلُودُ الَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ ۖ ثُمَّ تَلِينُ جُلُودُهُمْ وَقُلُوبُهُمْ إِلَىٰ ذِكْرِ اللَّهِ ۚ ذَٰلِكَ هُدَى اللَّهِ يَهْدِي بِهِ

خالص عقل والو لره (٢١) ایا نو هغه څوك چه پرانستے وی الله تعالی سینه د هغه دپاره د اسلام نو هغه په رنړا باندے دی د خپل رب د طرف نه نو تباهی ده هغه چاله چه سخت دی زړونه د هغوی (د اوریدلو) د ذکر د الله تعالی نه دغه کسان په ګمراهئ ښکاره کښ دی (٢٢) الله تعالی نازل کړی دی ډیرے خائسته خبرے چه کتاب دے یو شان بیابیا بیانیږی ویخته ځګیږی (غوږے زیګ زیګ کیږی) د هغه نه په څرمنو د هغه کسانو چه ویره کوی د رب خپل نه بیا نرمیږی څرمنے د هغوی او زړونه د هغوی ذکر د الله تعالی ته دا هدایت د الله تعالی دے هدایت کوی په دے سره

جنتیان به اهلِ غرف دَخپل ځان نه اوچت داسے وینی لکه چه ستوری چمکدار د نوروستورونه په مشرق یامغرب کښ پاتے شوے وی اوتاسوئیے وینے دا د وجے د فرق د مرتبود دوی دے یوتربله دوی اُوئیل یا رسول الله دغه به منازل د انبیاء علیهم السلام وی هغه اوفرمائیل نه بلکه قسم په هغه ذات چه زما نفس د هغه په لاس کښ دے دا هغه سړی دی چه ایمان ئیے په الله تعالی باندے راوړے دے اوتصدیق د رسولانوئیے کړے دے۔

[٢١] د دے ایت نه تر(٤٢) پورے دویم باب دے په دے کښ دریم دلیل عقلی دے بیا تقابل د فریقینو ذکر کوی سرهٔ د ترغیب الی القرآن او تخویف اخروی نه او بیا تخویف دنیوی او ترغیب الی القرآن اومثال ذکر کوی د پاره د حال د فریقینو بیا تقابل د فریقینو په تخویف اوبشارت سره او تسلّی رسول ته اوذکر د حال د فریقینو بیا څلورم دلیل عقلی اعترافی سرهٔ د رد د شرك فی التصرف نه بیا اعلان د برائت اوترغیب الی القرآن سرهٔ د حال د فریقینونه۔په دے(٢١) کښ روستود بیان د خالقیت د الله تعالی نه بیان د ربوبیت د هغهٔ دے اومواد د تربیت دوه دی اوبه اوبوټی دا دواړه د الله تعالی په تصرف اواختیارکښ دی اوپه دے کښ فناء د دُنیا ته هم اشاره کوی د پاره د تذکیرد اخرت چه مخکښ ایت کښ د هغے ذکراوشو ﴿فَسَلَكَهُ يَنَابِيعَ فِي الْأَرْضِ﴾ یعنی هغه اوبه د باران چه په زمکه کښ داخلے کړی نوپه زمکه کښ چینے شی پشان د رګونو په جسم کښ نود زمکے په رګونو کښ تقسیم شی۔

[٢٢] په دے ایت کښ تقابل ذکرکوی د دواړو فلواومخکښ ایت کښ چه کوم دلیل ذکرشو نو د هغے نه د انتفاع حاصلولو د پاره علت ذکرکوی چه شرح د صدر ده۔ اومراد په شرح د صدر سره انابت د پاره د قبلولود اسلام دے یعنی شبهات اوعناد د هغه د زړه نه الله تعالی لرے کړی نواسلام قبول کړی او روستو د اسلام قبلولونه په قرآن باندے پوهه شی، د نور نه مراد قرآن دے نوپه دے نور سره هغه په اسلام باندے مضبوط اوپوخ شی۔ اوبعضِ مفسرینو دلته روایت نقل کړے دے چه علامات د شرح صدر درے دی انابت جنت ته، نفرت د دنیا نه، تیاری کول دپاره د مرګ مخکښ د راتللو د هغے نه۔ نود قسوة قلب علامات د دے مقابل دی۔

مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ هَادٍ ﴿٢٣﴾ اَفَمَنْ يَّتَّقِيْ بِوَجْهِهٖ سُوْٓءَ الْعَذَابِ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ
وَقِيْلَ لِلظّٰلِمِيْنَ ذُوْقُوْا مَا كُنْتُمْ تَكْسِبُوْنَ ﴿٢٤﴾ كَذَّبَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ فَاَتٰىهُمُ الْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ لَا

چاته چه غواړی الله تعالی او هغه څوك چه بے لارے کړے وی الله تعالی نو نیشته هغه لره هیڅوك په لارے روانوؤنکے (٢٣) ایا هغه څوك چه ځان بچ کوی په مخ خپل سره د ناکاره عذاب نه په ورځ د قیامت او اوبه وئیلے شی ظالمانو ته چه اوڅکئے سزا د هغه عملونو چه تاسو کول (٢٤) تکذیب کړے وؤ هغه کسانو چه د دوی نه مخکښ وؤنو راغے دوی ته عذاب د داسے ځائے نه چه دوی نه

[٢٣] دا صدق د قرآن دے اوترغیب دے هغے ته دَپاره د زائل کولو د قسوة د زړه کوم چه مخکښ ایت کښ ذکرشویدے اوپه دے ایت کښ اووه صفتونه د قرآن کریم ذکرکړی دی ﴿اَحْسَنَ الْحَدِيْثِ﴾ په قرآن کریم باندے د حدیث اطلاق نورو پنځه اياتونو کښ شته ځکه چه حدیث وئیلے کیږی هرهغه کلام ته چه بیانیږی او دے لفظاً هم احسن دے ځکه چه ډیر فصیح اوبلیغ دے او لذت ورکوؤنکے دے قاری ته او اوریدونکی ته اګرچه شعرنه دے او معنیً هم احسن دے چه تناقض اواختلاف نه پاك دے په اخبارو تیرشوؤ او راتلونکو کښ ئے هیڅ دروغ نیشته او عجائبات ئے نه ختمکیږی ﴿مُتَشَابِهًا﴾ یعنی په ځسن او فصاحت بلاغت کښ ټول اياتونه او سورتونه یوشان دی اګرچه په دیرویش(٢٣)کلونو کښ نازل شویدے اوکه د مخلوق کلام وے نوپه دومره زمانه کښ په جوړولو باندے به ئے ډیر تفاوت اواختلاف راغلے وے ﴿مَثَانِيَ﴾ یعنی د دے قصّے او احکام او وعده او وعیدونه بیابیا ذکرشویدی او دارنګ تلاوت ئے باربار کیږی او زړه ترینه نه مړیږی ﴿تَقْشَعِرُّ مِنْهُ جُلُوْدُ الَّذِيْنَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ﴾ اقشعرار دیته وائي چه د ویرے د وجے نه د انسان په بدن باندے ویخته نیغ او دریږی او داصفت د ځرمن دے نوجلود ئے ذکرکړه او داحالت د زړه د خشیت نه پیداکیږی د دے وجے نه یخشون ئے ورسره ذکرکړو ﴿ثُمَّ تَلِيْنُ جُلُوْدُهُمْ وَقُلُوْبُهُمْ اِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ﴾ یعنی دغه ویره د زړه او د ځرمن سبب اوګرځی د اطمینان او د محبت نو د هغے وجے نه نرم والے راشی په ځرمن باندے ویخته په ځائے ځائے کینی او دارنګ اندامونه د دغه انسان د الله تعالی د ذکر اطاعت دپاره استعمالیږی اوپه زړه کښ ایمان محکم اوزیات شی۔ تفسیر قرطبی اوبحرالمحیط او ابن کثیر اوسراج المنیرکښ په دے ځائے کښ سخت تردیدئے د هغه متصوفو ذکرکړے دے چه په وخت د ذکرکولوکښ په هغوی باندے بے هوشی راشی یا ګډاکوی یا ټوپونه وهی او دیته جذبه وائي او دا کمال ګڼړی۔ نوکه داکمال وے اوبنه صفت وے نو الله تعالی به د صحابو او د نورو مؤمنانو په صفت کښ په دے ایت کښ ذکرکړے وے۔ د اسماء رضی الله عنها اود سعید بن عبدالرحمان نه نقل ده۔چه داجذبه د شیطان د وجے نه ده او د ابن سیرین رحمة الله نه نقل دے۔ چه د دوی یوتن دِپه چت د کوټې(په بلئی) باندے یا په دیوال باندے کینی یا د کوهی په غاړه باندے کینی او په هغه باندے دے ټول قرآن اولوستلے شی که دے بے هوشه شو او را اوغورځیدلو نو دے به رشتینے وی په جذبه کښ۔

[٢٤] دا تخویف اُخروی دے منکرینوته روستود بیان د حال د مؤمنانونه اوپه دے ایت کښ تقابل دے لیکن دویم جانب ئے حذف کړے دے ﴿بِوَجْهِهٖ﴾ یعنی په جهنم کښ به پرمخے اوغورځولے شی اولاس به

يَشْعُرُوْنَ ﴿٢٥﴾ فَاَذَاقَهُمُ اللّٰهُ الْخِزْيَ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ اَكْبَرُ ۘ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ﴿٢٦﴾
وَلَقَدْ ضَرَبْنَا لِلنَّاسِ فِيْ هٰذَا الْقُرْاٰنِ مِنْ كُلِّ مَثَلٍ لَّعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ﴿٢٧﴾ قُرْاٰنًا عَرَبِيًّا غَيْرَ ذِيْ
عِوَجٍ لَّعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ ﴿٢٨﴾ ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا رَّجُلًا فِيْهِ شُرَكَآءُ مُتَشٰكِسُوْنَ وَرَجُلًا سَلَمًا لِّرَجُلٍ ؕ
هَلْ يَسْتَوِيٰنِ مَثَلًا ؕ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ۚ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٢٩﴾ اِنَّكَ مَيِّتٌ وَّاِنَّهُمْ مَّيِّتُوْنَ ﴿٣٠﴾ ثُمَّ

پوهیدل(۲۵)نواوخکوله دوی ته اللّٰه تعالیٰ شرمندګی په ژوند دُنیوی کښ او خامخا عذاب دَ اخرت ډیر لوے دے که چرے دوی پوهیدلے (۲۶) او یقیناً بیان کړیدی مونږ خلقو ته په دے قرآن کښ دَ هر قسم وعظونونه دَ دے دپاره چه دوی نصیحت قبول کړی (۲۷) قرآن عربی دے نه دے کنګ لیچ والا دَ دے دپاره چه دوی ویریګی (۲۸) بیان کړیدے اللّٰه تعالیٰ یو مثال چه یو سړے وی په هغه کښ ډیر برخے والا وی جګړ مار او یوبل سړے وی پوره دَ یو سړی د پاره ایا دوی برابر کیدے شی په حالت کښ ستائنه دَ خدائیتوب دَ یو اللّٰه تعالیٰ ده بلکه ډیر دَ دوی نه نه پوهیږی (۲۹) یقیناً ته مړ کیدونکے ئیے او یقیناً دوی به هم مړه کیږی (۳۰) بیا به

ئیے ترلے شوے وی نودے به په مخ سره محان دَ عذاب نه بچ کوی لیکن نه به شی بچ کیدے یعنی بله طریقه دَ دفع عذاب ورسره نیشته او دا طریقه فائده نه ورکوی او احتمال شته چه مراد دَ وجهه نه وجاهت اوشرافت دنیویه شی یعنی دے دَ قیامت دَ عذاب نه محان په دنیوی عزت اوشرافت سره بچ کول غواړی او دَ قرآن سره دشمنی کوی لیکن په دے وجاهت سره نه شی بچ کیدے۔

[۲۶،۲۵] دا تخویف دنیوی دے په ذکر کولو دَ حال دَ منکرینو تیرشوؤ۔

[۲۸،۲۷] په دے ایاتونو کښ ترغیب دے قرآن ته دَ پاره دَ بچ کیدلو دَ عذاب دَ دنیا او آخرت نه کوم چه محکښ ایاتونو کښ ذکرشو ﴿غَيْرَ ذِيْ عِوَجٍ﴾ مراد دَ دے نه شبهات اوشکونه او اعتراضونه دی محکه چه عوج دَ عین په زیر سره مستعملیږی په معانی کښ اوپه زوَر دَ عین سره په اجسامو کښ۔

[۲۹] تیرشوی ایت کښ من کل مثل ذکروؤنوپه دے ایت کښ دَ هغے یوخاص مثال ذکرکوی دَپاره دَ فرق په مینځ دَحال دَ مشرك اومؤحد کښ ﴿مُتَشٰكِسُوْنَ﴾ جګړ مار اوضدیان دی په انصاف هم نه رضا کیږی او یوبل سره اتفاق هم نه کوی تفصیل دَ مثال دا دے چه دَ یومریئی ډیرمولاګان وی لیکن بدخویه اوضدیان وی یوتن چه دے مریئی ته دَ یو کارحکم اوکړی نوبل دَ هغه په ضد کښ دَ بل کارحکم اوکړی او دواړه اتفاق نه کوی اومعافے هم نه کوی اوکه دَ دے مریئی څه حاجت پیښ شی یا پرے څه مصیبت راشی نو دَ مولاګانو نه یوکس هم دَ دهٔ سره امدادنه کوی دَ وجے دَ بد اخلاقئے دَ هغوی نه نو دا مرئیے به ضرور ډیر تنګ ژوند کښ وی او پریشان به وی اوبل مرئیے دے چه دَ هغه یومولادے او هغه مولا کښ دَ رجولیت یعنی دَ سړی توب اخلاق هم شته شریف دے معافی کوؤنکے دے سخی اوکریم دے په خپل مریئی ظلم نه کوی په حاجت او مصیبت کښ ورسره امداد کوی نو ضروری خبره ده چه دامرئیے به په خپل پوره ژوند کښ ډیر خوشحاله وی نو دارنګ مشرك چه ډیرالِهه ئیے نیولی دی یوهم حقدارَ بندګئے ګنړی بل هم ګنړی یوالله دَیومصیبت لرے کولوذمه وارګنړی اوبل دَ بل مصیبت دَپاره بیا دا الِهّه دَ دهٔ مشرکان

إِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ عِنْدَ رَبِّكُمْ تَخْتَصِمُونَ ﴿٣١﴾ ع

یقیناً تاسو په ورځ دَ قیامت دَ خپل رب په مخکښ بحثونه کوئے(۳۱)

پیران اوملایان دی چه عنادیان اوحرصناك دی نو که دامشرك دَ یوعبادت کوی نو بل ترینه خفه کیږی یوته نذرانه شکرانه اوړی نوبل ورته غصه وی او په یووخت کښ ئے ډیر حاجتونه وی نو حیران وی چه دے یوحاجت له یو دربارته زم نوهغه بل دربار دَ بل حاجت دپاره زمانه پاتے کیږی نودا مشرك ډیرپه تنګ ژوند کښ دے اومؤحد سړے خو دَ یو اللّٰه عبادت اوطاعت کوی په یو وخت ترینه هرحاجت غوختلے شی نودَ دهٔ ژوند ښه په آرام دے نو معلومه شوه چه دوی برابرنه دی۔

فائده: دا مثال دَ بتانو عبادتونه کوؤنکو سره نه لګی دَدے وجے خطیب شربینی لیکلی دی چه دا مثال دَ هغه چا دے چه دوی دَ علماؤ او پیرانو عبادت کوی په دے عقیده چه هغوی به زمونږ دَپاره شفاعت (شرکیه) کوی او هریو عقیده لری چه زماعالم اوپیرپه حق باندے دے اودابل په باطل باندے دے۔

[۳۱،۳۰] هرکله چه سخت رد اوکړے شوپه مشرکانوباندے نوهغوی دَ غصے دَوجے نه خیرے کولے چه دا نبی دِمړشی چه مونږ ترینه خلاص شونو په دے ایت کښ جواب دے چه مرګ خوپه ټولو باندے راځی نودَ بل چا په مرګ خوشحالی کول هیڅ فائده نه لری۔ او دَ دے ایت نه معلومه شوه چه په نبیﷺ باندے هم مرګ راغلے دے دَ دے وجے دفن کړے شوے دے او قرطبی لیکلی دی چه داخبره اللّٰه تعالیٰ دَ دے وجے نه ذکرکړه چه څوك دَ نبیﷺ په مرګ کښ خلاف اونکړی اوبل داچه معلومه شی چه پیغمبرپه دے صفت کښ دَ نورو خلقو سره مساوی (برابر) دے۔

فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ كَذَبَ عَلَى اللّٰهِ وَكَذَّبَ بِالصِّدْقِ اِذْ جَآءَهٗ ؕ اَلَيْسَ فِىْ جَهَنَّمَ مَثْوًى لِّلْكٰفِرِيْنَ ﴿۳۲﴾ وَالَّذِىْ جَآءَ
بِالصِّدْقِ وَصَدَّقَ بِهٖٓ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُتَّقُوْنَ ﴿۳۳﴾ لَهُمْ مَّا يَشَآءُوْنَ عِنْدَ رَبِّهِمْ ؕ ذٰلِكَ جَزٰٓؤُا الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۳۴﴾ لِيُكَفِّرَ
اللّٰهُ عَنْهُمْ اَسْوَاَ الَّذِىْ عَمِلُوْا وَيَجْزِيَهُمْ اَجْرَهُمْ بِاَحْسَنِ الَّذِىْ كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۳۵﴾ اَلَيْسَ اللّٰهُ بِكَافٍ عَبْدَهٗ ؕ وَ
يُخَوِّفُوْنَكَ بِالَّذِيْنَ مِنْ دُوْنِهٖ ؕ وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ هَادٍ ﴿۳۶﴾ وَمَنْ يَّهْدِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ مُّضِلٍّ ؕ اَلَيْسَ
اللّٰهُ بِعَزِيْزٍ ذِى انْتِقَامٍ ﴿۳۷﴾ وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ ؕ قُلْ اَفَرَءَيْتُمْ مَّا تَدْعُوْنَ
مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اِنْ اَرَادَنِىَ اللّٰهُ بِضُرٍّ هَلْ هُنَّ كٰشِفٰتُ ضُرِّهٖٓ اَوْ اَرَادَنِىْ بِرَحْمَةٍ هَلْ هُنَّ مُمْسِكٰتُ رَحْمَتِهٖ ؕ قُلْ

نو څوك لوے ظالم دے دَ هغه چانه چه دروغ وائي په اللّٰه تعالیٰ باندے یادروغژن ګڼری رشتیاؤ لره کله چه راغے دهٗ ته ایا نیشته په جهنم کښ ځائے دَ اوسیدلو کافرانو لره (۳۲) او هغه څوك چه راوړی دی رشتیا او تصدیق ئیے دَ هغے اوکړو دغه کسان دوی متقیان دی (۳۳) دوی دپاره هغه نعمتونه دی چه دوی غواړی په نیز دَ رب دَ دوی دا بدله ده دَ خائسته عمل کوؤنکو (۳٤) دے دپاره چه معاف کړی اللّٰه تعالیٰ دَ دوی نه ناکاره هغه عملونه چه دوی کړیدی او بدله ورکړی دوی لره ثواب دَ دوی په ډیر خائسته هغه عملونو سره چه دوی کول (۳۵) ایا نه دے اللّٰه تعالیٰ پوره (بچ کوؤنکے) خپل بنده لره او ویره وی دوی تا په هغه کسانو چه دَ اللّٰه تعالیٰ نه سیوا دی او هغه څوك چه بے لارے کړی هغه لره اللّٰه تعالیٰ نو نیشته هغه لره هیڅوك هدایت ورکوؤنکے (۳٦) او هغه څوك چه هدایت ورکړی هغه له اللّٰه تعالیٰ نو نیشته هغه لره هیڅوك بے لارے کوؤنکے ایا نه دے اللّٰه تعالیٰ زورآور بدله اخستونکے (۳۷) اوکه چرے تپوس اوکړے ته دَ دوی نه چا پیدا کړی دی اسمانونه او زمکه خامخا دوی وائي اللّٰه تعالیٰ ته اُوایه ایا پوهه ئیے تاسو په (حال) دَ هغه چاچه تاسوئیے بلنه کوئے سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه که چرے اوغواړی اللّٰه تعالیٰ زما څه تکلیف ایا دوی کیدیشی لرے کوؤنکی دَ تکلیف دَ هغه یا اوغواړی په ما باندے رحمت ایا دوی بندولے شی رحمت دَهغه ته اُوایه

[۳۲] په دے کښ فیصله دَ تَخْتَصِمُوْنَ (اختصام) ذکرکوی نواول تحویف اُخروی ذکرکوی منکرینوته۔ ﴿كَذَبَ عَلَى اللّٰهِ﴾ په نسبت کولو دَ ولد اودَ شریك کښ اودارنګ په تاویل دَ صفاتودَ هغه کښ چه هغه دَ ځان یوصفت وئیلے وی لکه ید۔ (لاس) اوڅوك اُوائي چه دَ دے نه قدرت مراد دے لکه چه جهمیه مؤوله وائی۔

[۳۳،۳٤،۳۵] په دے ایاتونوکښ بشارت دے مؤمنانوته ﴿جَآءَ بِالصِّدْقِ﴾ دَ صدق نه مراد مسئله دَ توحید ده اوکتاب دَ اللّٰه تعالیٰ دے یعنی هرهغه څوك چه دعوت کوی قرآن اوتوحید ته ﴿وَصَدَّقَ بِهٖ﴾ دَ دے نه مراد ټول مؤمنان دی چه دعوت دَ توحید اودَقرآن اومنی۔ او دَ دوی پنځه حالتونه ذکرکوی۔

[۳۶،۳۷] مخکښ ئیے دَ اخرت اختصام ذکرکړو نوپه دے ایت کښ دَدنیا اختصام ذکرکوی یعنی هرمشرك ویره ورکوی مؤحدته دَ خپل معبودان باطله نه۔ نبی ﷺ ته ئیے وئیل چه ته زمونږ الهو ته بدمه وایه (چه دوی هیڅ نشی کولے) دوی به تانه مصیبت،مرض، جنون دراورسوی۔ او خالدین ولید ﷺ ئیے دَ عزیٰ نه ویروؤ لکه چه مفسرینو ذکر کړیدی اوس هم مشرکان وائي مؤحدینوته چه دَ توحید مسئلے مه کوئے

حَسْبِيَ اللّٰهُ ؕ عَلَيْهِ يَتَوَكَّلُ الْمُتَوَكِّلُوْنَ ﴿۳۸﴾ قُلْ يٰقَوْمِ اعْمَلُوْا عَلٰى مَكَانَتِكُمْ اِنِّيْ عَامِلٌ ۚ فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ﴿۳۹﴾ مَنْ
يَّاْتِيْهِ عَذَابٌ يُّخْزِيْهِ وَيَحِلُّ عَلَيْهِ عَذَابٌ مُّقِيْمٌ ﴿۴۰﴾ اِنَّاۤ اَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتٰبَ لِلنَّاسِ بِالْحَقِّ ۚ فَمَنِ اهْتَدٰى
فَلِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ ضَلَّ فَاِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيْهَا ۚ وَمَاۤ اَنْتَ عَلَيْهِمْ بِوَكِيْلٍ ﴿۴۱﴾ اَللّٰهُ يَتَوَفَّى الْاَنْفُسَ حِيْنَ مَوْتِهَا وَالَّتِيْ
لَمْ تَمُتْ فِيْ مَنَامِهَا ۚ فَيُمْسِكُ الَّتِيْ قَضٰى عَلَيْهَا الْمَوْتَ وَيُرْسِلُ الْاُخْرٰۤى اِلٰۤى اَجَلٍ مُّسَمًّى ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ

پوره دے ماله اللّٰه تعالیٰ خاص په هغه باندے توکل کوی توکل کوؤنکی (۳۸) ته اُوایه اے قومه زما عمل کوئے په خپله طریقه باندے یقیناً څه هم عمل کوؤنکے یم نو زر دے چه تاسو به پوهه شئے (۳۹) چه څوك دے هغه چه رائحی هغه ته عذاب چه رسوا به ئیے کړی او راکوز به شی په هغه باندے عذاب همیشه (٤٠) یقیناً نازل کړے دے مونږ په تا باندے کتاب دَ خلقو د پاره په حق سره نو هغه څوك چه هدایت ئیے او موندلو نو خپلے فائدے دپاره ئیے دے او هغه څوك چه بے لارے شو نو یقیناً چه بے لارے کیږی وبال به په هغه باندے وی او ته نه ئیے په دوی باندی ذمه وار (٤١) اللّٰه تعالیٰ اخلی ساهونه په وخت دَ مرګ دَ هغے کښ او هغه ساهونه چه نه مړ کیږی (اخلی) په خوب دَ هغوی کښ نو بند کړی دَ واپسئی نه هغه چه فیصله کړے وی په هغے باندے په مرګ سره او راپریږدی هغه بل لره تر نیټے مقرر پورے یقیناً په دے کښ ډیر دلیلونه دی

اونذرونه دَ غیراللّٰه مه منع کوئے جنټے اوغلافونه ترینه مه لرے کوئے ګنې نو ټکره به درکړی۔ نو اللّٰه تعالیٰ مؤحدینو بندګانوته تسلی ورکوی اومشرکانوباندے ردکوی ﴿اَلَيْسَ اللّٰهُ بِكَافٍ عَبْدَهٗ﴾ دَ عبده نه هرمؤحد مراد کیدے شی او بیائیے ذکرد فریقینو کړے دے په طریقه دَ تقابل سره۔

[۳۸] داځلورم دلیل عقلی اعترافی دے دَپاره دَ نفی دَ خالقیت اوتصرف دَ غیر اللّٰه په اقرار دَ مشرکانو سره، او دَ محکښ ایت سره ئیے ربط دا دے چه تاسوپه دے معبودانو باطلوسره مؤحدینولره څه رنګه ویروئے تاسو خو پخپله هم اقرار کوئ چه خالق اللّٰه تعالیٰ دے اودامعبودان دَ نفع او ضرر مالکان نه دی دَ اللّٰه تعالیٰ په مقابله کښ ﴿قُلْ حَسْبِيَ اللّٰهُ﴾ یعنی که مشرك دعوئ اوکړی چه دامعبودان پخپله اختیار مندنه دی خوشفعاء قهریه دی یا دَ اللّٰه تعالیٰ سره ملګرتیاکوی نو جواب دا دے چه اللّٰه تعالیٰ پوره اوکافی دے هیڅاته حاجت نه لری ﴿الْمُتَوَكِّلُوْنَ﴾ نه مراد مؤحدین دی۔

فائده: په دے ایت کښ ئیے مؤنث صیغے ذکرکړے دی دَ دے وجے نه چه رد دے په خاص مشرکانو چه هغوی دَ عزّیٰ عبادت کوؤ او هغه مؤنثه پیرئے وه یا اوس زمانه کښ چه څوك دَ زنانه دَ قبر عبادت کوی۔ یا تانیث کښ اشاره ده کمزورئے دَ معبودانودَ دوی ته ځکه چه مؤنّثات په کمزورئے سره مشهور دی۔

[٤٠،۳۹] اودا بیان دَ توکل دے په ذکر دَ برائت سره ﴿مَكَانَتِكُمْ﴾ عادت او حالت اوقوت ته وئیلے کیږی یعنی که شرك او کفر کوئ اوکه زما دَضرر را رسولو دَپاره څه قوت اومکرونه استعمالوئے نو اوکړئے۔

[٤١] په دے کښ ترغیب او صدق دَ قرآن ذکرکوی اومقصد پکښ تسلّی ده روستودَ اعلان دَ برائت نه۔ ﴿لِلنَّاسِ﴾ په دے کښ دلیل دے چه قرآن دَ ټول دنیا والو دپاره کتاب الٰهی دے۔

لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُوْنَ ﴿۴۲﴾ اَمِ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ شُفَعَآءَ ؕ قُلْ اَوَلَوْ كَانُوْا لَا يَمْلِكُوْنَ شَيْـًٔا وَّلَا يَعْقِلُوْنَ ﴿۴۳﴾ قُلْ

هغه قوم لره چه فکر کوی (۴۲) ایا جوړ کړیدی دوی سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه سفارشیان ته اُوایه ایا اګر چه دوی اختیار نه لری دَ هیڅ څیز او نه پوهیږی (۴۳) ته اُوایه

[۴۲] دَ دے آیت نه دریم باب دے تر(۵۲) پورے په دے کښ پنځم دلیل عقلی دے بیا مسئله دَ شفاعت ده نفیاً دَ غیر اللّٰه نه او اثباتاً دَ اللّٰه تعالیٰ دَپاره او زجر دے په نفرت سره دَ توحیدنه بیا نتیجه دَ دلیلونو په امر دَ دُعا دَ اللّٰه تعالیٰ سره بیا تخویف اُخروی اوتخویف دنیوی اودلیل عقلی شپږم دے، په دے (۴۲) کښ دلیل عقلی دے په ترقیٔ سره دَ ماقبل نه ځکه محکښ دلیلونه دَ خلق اودَ تربیت اومالکیت دَ نفع اوضررذکرشول نواوس تصرف دَ اللّٰه تعالیٰ په خوب اوپه مرګ سره ذکرکوی ﴿اَللّٰهُ يَتَوَفَّى﴾ توفی په معنیٰ دَ پوره اخستلوسره دے لکه چه اِنِّیْ مُتَوَفِّیْكَ، کښ تیرشویدی بیا هرکله چه دلته ئے اَلْاَنْفُسَ، لفظ ذکرکړونو معلومه شوه چه اخستل دَنفس مراد دی او دَ نفس اودَ روح په باره کښ دَ اهلِ علمواختلاف دے بعضو وئیلی دی چه نفس جدا دے او روح جدا دے یعنی نفس عام دے چه په هغه سره تنفس رائځی که تمیز اوحیات دواړه وی اوکه صرف حیات وی او روح خاص دے په هغے پورے چه په هغه سره حیات رائځی اواکثر اهل علمو وئیلی دی چه دا دواړه یوشے دے او دوه نومونه ئے دی او دا غوره قول دے نومعلومه شوه چه دواړه یوشے دے لیکن صفتونه په کښ دوه دی دَ دے وجے نه یوته نفس الحیاة وئیلے کیږی اوهغه اخستلے کیږی په وخت دَ مرګ کښ۔ بل یوته نفس التمیز وئیلے کیږی اوهغه اخستلے کیږی په وخت دَ خوب کښ۔ او تفسیر مدارك او روح المعانی او سراج المنیرکښ راوړی دی چه اطلاق دَ اخستلو دَ انفس په وخت دَ خوب کښ دَ دے وجے نه دے چه دا تشبیه دَ اودوده دَ مړو سره یعنی اوده انسان تمیز اوتصرف نشی کولے لکه چه مړے هم تمیز اوتصرف نشی کولے۔ او دا قول دَ دے مفسرینو رد دے په هغه چا باندے چه دَ مړو دَپاره تصرفات او تمیزثابتوی او وائی چه مړے دَ خپل قبردَپاسه مرغئے نراوښځه پیژنی دا ټولے دَ جهل خبرے دی ﴿فَيُمْسِكُ الَّتِیْ قَضٰى عَلَيْهَا الْمَوْتَ﴾ دا جمله دلیل دے چه دَ مړو ارواح دَ دوی بدنونوته بیا واپس رائځی مګرهله چه واپسی په نص صحیح سره ثابته شی لکه بعث بعد الموت او سورة البقرة پنځه واقعات ذکرکړی دی چه روستودَ مرګ نه بیا ژوندی کړے شویدی اودارنګ په معجزه دَ عیسیٰ علیه السلام سره مړی ژوندی کیدل داخو په صحیح اوصریح نصوصو سره ثابت دی نو دَ دے نص نه هغه مستثنیٰ دی۔

[۴۳] په دے آیت کښ زجردے په عقیده دَ شفاعة شرکیه باندے یعنی دوی فکرپه محکنی دلیلونوکښ نه کوی بلکه ځان دَپاره بهانے ګوری او وائی چه مونږدَ دے معبودان من دون اللّٰه بندګی دَ دے وجے نه نه کوو چه دوی خدایان دی بلکه صرف سفارشیان ئے ګنړو۔ بیا رد دے په دوی باندے چه دغه معبودان ستاسو دَ هیڅ څیز اختیاراوقدرت نه لری نو بغیر اذن نه دَ شفاعت کولو اختیارئے کله کیدے شی او دارنګ پوهه نه لری ستاسو په بندګئ کولوباندے۔

لِلّٰهِ الشَّفَاعَةُ جَمِيْعًا ؕ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ ثُمَّ اِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۴۴﴾ وَاِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ وَحْدَهُ اشْمَاَزَّتْ قُلُوْبُ
الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ ۚ وَاِذَا ذُكِرَ الَّذِيْنَ مِنْ دُوْنِهٖۤ اِذَا هُمْ يَسْتَبْشِرُوْنَ ﴿۴۵﴾ قُلِ اللّٰهُمَّ فَاطِرَ السَّمٰوٰتِ
وَالْاَرْضِ عٰلِمَ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ اَنْتَ تَحْكُمُ بَيْنَ عِبَادِكَ فِيْ مَا كَانُوْا فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ﴿۴۶﴾ وَلَوْ اَنَّ لِلَّذِيْنَ
ظَلَمُوْا مَا فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا وَّمِثْلَهٗ مَعَهٗ لَافْتَدَوْا بِهٖ مِنْ سُوْٓءِ الْعَذَابِ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ وَبَدَا لَهُمْ مِّنَ

اللّٰه تعالیٰ لره اختیار دَ ټول سفارش دے هغه لره بادشاهي دَ اسمانونو او زمکے ده بیا هغه طرف ته به اوګرځولے شئے تاسو (٤٤) او هر کله چه یاد کړیشی اللّٰه تعالیٰ په یووالی سره تنګ شی زړونه دَ هغه کسانو چه ایمان نه لری په اخرت باندے او هرکله چه یاد کړے شی هغه کسان چه سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه دی دغه وخت دوی ډیره خوشحالی ښکاره کوی (٤٥) ته اُوایه اے اللّٰه پیدا کوؤنکے دَ اسمانونو او دَ زمکے پوهه په هر پټ او ښکاره باندے ته به فیصله کوے په مینځ دَ بندګانو ستا کښ په هغه څیز کښ چه وؤ دوی په هغے کښ اختلاف ئے کوؤ (٤٦) او که چرے شی دپاره دَ ظالمانو هغه څیزونه چه په زمکه کښ دی ټول او پشان دَ هغے ورسره شی خامخا دوی به بدله ورکوی په هغے سره دَ ناکاره عذاب نه په ورځ دَ قیامت او ښکاره به شی دوی ته دَ طرف

[٤٤] دا بل رد دے دَ دوی په عقیده شرکیه باندے یعنی اختیار صرف دَ اللّٰه تعالیٰ دے نو هیڅوک دَ هغه دَ اذن نه بغیر شفاعت نشی کولے او دَشفاعت ډیر قسمونه دی دَ دے وجے نه تاکیدئیے په جمیعاً سره اوکړو۔

[٤٥] دا زجردے دَ دوی په بل خصلتِ قبیحه باندے اوجواب دے دَ سوال دَ دوی که دوی اُوائي چه مونږ شفاعت بغیر اذن نه نه وایو بلکه زمونږ دَ شفاعت دپاره به زمونږ معبودانوته اللّٰه تعالیٰ اذن ورکوی نو دَ جواب حاصل دا دے چه ستاسو دَ اللّٰه تعالیٰ دَذکردَتوحید سره دُشمنی وه نوځه رنګه به ستاسودَپاره اذن ورکوی ﴿اشْمَاَزَّتْ﴾ په دے کښ ډیره مبالغه ده ځکه چه اشمئزاز دیته وئیلے کیږی چه زړه دَ غصے او دَ خفګان نه داسے ډک شی چه څرمن دَ مخ اوتندی کښ چونږونه پیداشی ﴿وَاِذَا ذُكِرَ الَّذِيْنَ مِنْ دُوْنِهٖۤ﴾ یعنی دَ دوی دَ معبودانودَپاره قدرت اوعلم دَ غیب وغیره ثابتولے په دروغو قصو اودلیلونو باطلو سره یا دَ هغوی دَکرامتونو په دروغو سره ذکرکیدے شی ﴿يَسْتَبْشِرُوْنَ﴾ په دے کښ هم ډیره مبالغه ده یعنی زړه ئے دَ خوشحالئے نه دومره ډک شی چه آثاردَ خوشحالئے په مخ اوتندی کښ ښکاره شی۔ اوداسے زمونږپه زمانه کښ ډیر موجود دی چه توحید بیا ن کوؤنکو ته ډیر غُصّه وی او وائي چه دا دَ اولیاؤ منکران دی۔

[٤٦] هرکله چه دَ مشرکانوخباثت عظیمه بیان شوچه نفرت دے دَ توحید نه او داسبب دَ خفګان دَ مؤحد دے نو اوس دَ مؤحد دَ زړه دَ تسلئی دپاره هغه ته دَ دُعا تلقین کوی اوپه دے دعاکښ وسیله دَ اسماؤاوصفاتودَ اللّٰه تعالیٰ سره ده۔ دَ دے صفاتونه روستو که انسان هریو حاجت غواړی نو قبلیږی لکه سعیدبن جبیرنه روایت دے هغه وئیلی دی: "پیژنم داسے ایت چه څوک ئے اولولی او دَ اللّٰه تعالیٰ نه سوال کوی نو اللّٰه تعالیٰ ئے ورکوی" نو دا ایت ئے اولوستلو۔

اللّٰهِ مَا لَمْ يَكُوْنُوْا يَحْتَسِبُوْنَ ﴿۴۷﴾ وَبَدَا لَهُمْ سَيِّاٰتُ مَا كَسَبُوْا وَحَاقَ بِهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۴۸﴾ فَاِذَا مَسَّ
الْاِنْسَانَ ضُرٌّ دَعَانَا ثُمَّ اِذَا خَوَّلْنٰهُ نِعْمَةً مِّنَّا ۙ قَالَ اِنَّمَآ اُوْتِيْتُهٗ عَلٰى عِلْمٍ ؕ بَلْ هِيَ فِتْنَةٌ وَّلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ
لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۴۹﴾ قَدْ قَالَهَا الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ فَمَآ اَغْنٰى عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿۵۰﴾ فَاَصَابَهُمْ سَيِّاٰتُ مَا كَسَبُوْا ؕ
وَالَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مِنْ هٰٓؤُلَآءِ سَيُصِيْبُهُمْ سَيِّاٰتُ مَا كَسَبُوْا ۙ وَمَا هُمْ بِمُعْجِزِيْنَ ﴿۵۱﴾ اَوَلَمْ يَعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ

دَ اللّٰه تعالیٰ نه هغه حال چه دوی ئے ګمان هم نه کوؤ (۴۷) او بنکاره به شی دوی ته ناکاره عاقبتونه دَ هغه عمل چه دوی کړیدی او راګیر به کړی دوی لره هغه ځیز چه دوی وؤ په هغے پورے چه ټوقے کولے (۴۸) نو هر کله چه اورسیږی انسان ته تکلیف نو رابلی مونږ لره بیا هر کله چه ورکړو مونږ هغه ته څه نعمت دَ خپل طرف نه دے وائي یقیناً راکړے شویدے دا ماته په علم زما بلکه دا امتحان دے لیکن ډیر دَ دوی نه پوهه نه لری (۴۹) یقیناً وئیلے وه دا خبره هغه کسانو چه مخکښ دَ دوی نه وؤ نو لرے نه کړو دَ دوی نه (عذاب) هغه عملونو چه دوی کول (۵۰) نو اورسیدو دوی ته ناکاره (عاقبت) دَ هغه عملونو چه دوی کول او هغه کسان چه ظلم ئے کړے دے دَ دے موجوده کسانونه زر دے اوبه رسیږی دوی ته ناکاره عاقبت دَ هغه عملونو چه دوی کړیدی او دوی نه دی عاجز کوؤنکی اللّٰه تعالیٰ لره (۵۱) ایا دوی نه پوهیږی چه یقیناً اللّٰه تعالیٰ فراخوی روزی

[۴۸،۴۷] په دے ایاتونو کښ ذکر دَ فیصلے اودَ حکم دَ اللّٰه تعالیٰ دے په منکرینودَ توحید باندے اودا تخویف اُخروی دے په ذکر دَ درے وعیدونو سره ﴿وَبَدَا لَهُمْ مِّنَ اللّٰهِ مَا لَمْ يَكُوْنُوْا يَحْتَسِبُوْنَ﴾ داشامل دے هغه مشرکانواومبتدعینو ته چه اعمال ئے کول او خیال ئے دا وؤ چه داحسنات دی لیکن معلومه به شی په قیامت کښ چه دا سیئات وؤ۔ دا قول دَ مجاهد دے او دا مناسب دے دَ ابتدا دَ سورة سره: "مانعبدهم الالیقربونا الی اللّٰه زلفیٰ" اوهغه خلقوته چه ګناهونه کوی په دے خیال چه دَ مرګ نه مخکښ به توبه اوباسو اوناګهه ورباندے مرګ راشی هغوی ته هم شامل دے دا دَ سدّی روایت دے۔

[۴۹] دا زجردے دَمشرکانو په بل خباثت باندے ﴿عَلٰى عِلْمٍ﴾ یعنی اللّٰه تعالیٰ عالم وؤچه څه دَ دے نعمت اهل اوحقداریم یا مراد دا دے چه هرنعمت چه ورته حاصل شی نو خپل کسب اوکوشش ته ئے نسبت کوی اوخپل محنت مستقل ګنړی لکه چه داسے دهری سړے وینا کوی۔

[۵۱،۵۰] دا تخویف دے په ذکر دَحال دَ سابقینو سره چه داکلمه (اوتیته علی علم) سبب دَ عذاب دے په تیرشوی منکرینو باندے لکه چه قارون هم داسے وئیلی ووسورة قصص(۷۸) کښ دی ﴿سَيُصِيْبُهُمْ سَيِّاٰتُ مَا كَسَبُوْا﴾ عذاب دَ قحط ته اشاره ده چه په مکے والو باندے راغلے وؤ دَ دے وجے نه ورپسے دَ رزق دَ فراخئے اوتنګسیا ذکر کوی۔

لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَقْدِرُ ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۵۲﴾ قُلْ يٰعِبَادِيَ الَّذِيْنَ اَسْرَفُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوْا مِنْ
رَّحْمَةِ اللّٰهِ ۭ اِنَّ اللّٰهَ يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ جَمِيْعًا ۭ اِنَّهٗ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ﴿۵۳﴾ وَاَنِيْبُوْٓا اِلٰى رَبِّكُمْ وَاَسْلِمُوْا لَهٗ مِنْ
قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَكُمُ الْعَذَابُ ثُمَّ لَا تُنْصَرُوْنَ ﴿۵۴﴾ وَاتَّبِعُوْٓا اَحْسَنَ مَآ اُنْزِلَ اِلَيْكُمْ مِّنْ رَّبِّكُمْ مِّنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَكُمُ
الْعَذَابُ بَغْتَةً وَّاَنْتُمْ لَا تَشْعُرُوْنَ ﴿۵۵﴾ اَنْ تَقُوْلَ نَفْسٌ يّٰحَسْرَتٰى عَلٰي مَا فَرَّطْتُّ فِيْ جَنْۢبِ اللّٰهِ وَاِنْ كُنْتُ لَمِنَ

هغه چا لره چه اوغواړي او تنګوي يقيناً په دے کښ ډير دليلونه دي هغه قوم لره چه ايمان لري (۵۲) ته اُوايه اے بندګانو زما هغه کسان چه زياتے کړيدے په ځانونو خپلو باندے مه نا اميده کيږئے دَ رحمت دَ اللّٰه تعالیٰ نه يقيناً اللّٰه تعالیٰ بخی ګناهونه ټول يقيناً اللّٰه تعالیٰ بخنه کوؤنکے رحم کوؤنکے دے (۵۳) او اوګرځئے (په توبه کولو سره) رب خپل ته او تابع شئے دَ حکمونو دَ هغه مخکښ دَ دے نه چه رابه شی تاسوته عذاب بيا به مدد نشی کيدے ستاسو (۵۴) او تابعداری اوکړئے دَ خائسته هغه چه نازل کړے شويدے تاسو ته دَ طرف دَ رب ستاسو نه مخکښ دَ دے نه چه رابشی تاسوته عذاب ناسپاه او تاسو به نه پوهيږئے (۵۵) (دا خبر م درکړو) دپاره دَ دے چه اونه وائي يو نفس هائے افسوس دے په هغه کوتاهئ باندے چه ما کړيده په اړخ دَ (حق دَ طاعت) دَ اللّٰه تعالیٰ کښ او يقيناً ووم ځه خامخا دَ

[۵۲] دا دليل عقلی شپږم دے مخکښ دليلونو کښ عام تصرف ئے ذکر کړے وؤ اوپه دے ايت کښ خاص په رزق کښ تصرف کول ذکر کوی چه دا هم په اللّٰه تعالیٰ پورے خاص دے۔

[۵۳] دَ دے ايت نه څلورم باب دے تر(٦٧) پورے په دے کښ ترغيب دے توبه کولوته دَشرك اودَ نورو ګناهونونه اوتابعدارئے دَ قرآن ته دَ پاره دَ دفع کولو دَ درے عذرونو بيا تخويف اوبشارت دے بيا دوه عقلی دليلونه عامه ذکر کوی اووم اواتم، بيا دليل وحی په رد دَ شرك فی العبادت باندے۔ په دے ايت(۵۳) کښ طريقه ذکر کوی دپاره دَ بچ کيدلودَ عذاب نه کوم چه مخکښ اياتونو کښ ذکرشويدے اوهغه طريقه توبه کول دی دَ شرك او دَ نورو ګناهونونه ﴿يٰعِبَادِيَ﴾ دے نه مؤمنان مراد دی نو الذُّنُوبَ جَمِيْعًا، نه مراد ګناهونه دی بغيردَشرك اوکفرنه۔ يا مراد دَ دے نه ټول بندګان دی مشرکانوته هم شامل دے نوپه الذُّنُوبَ، کښ شرك هم داخل دے۔ اوپه دے ايت کښ مغفرت په توبے کولو سره مراد دے چه په توبه سره شرك او کفرهم معاف کيږی اوپه ايت دَ سورة نساء کښ به غيردَ توبے نه مراد دے۔

[۵۴] دا معطوف دے په پټ لفظ باندے چه﴿اِسْتَغْفِرُوا اللّٰهَ وَاَنِيْبُوْٓا﴾ يعنی دَ شرك نه توبه اوباسئے اواوګرځئے اللّٰه تعالیٰ ته په توحيد سره۔ ﴿وَاَسْلِمُوْا﴾ دے کښ انقياد په اعتبار دَ عملونو سره مراد دے۔

[۵۵] دا ترغيب دے قرآن ته يعنی توبه اوانابت اواسلام په تابعدارئ دَ قرآن کښ دے اوپه دے ايت کښ هم ديته اشاره ده چه په توبه کولو اوپه اتباع دَ قرآن کښ تادی اوکړئے روستووالے مکوئے هسے نه چه عذاب راشی نوبيا به هيڅ نشئ کولے۔

السّٰخِرِيْنَ ﴿۵۶﴾ اَوْ تَقُوْلَ لَوْ اَنَّ اللّٰهَ هَدٰىنِيْ لَكُنْتُ مِنَ الْمُتَّقِيْنَ ﴿۵۷﴾ اَوْ تَقُوْلَ حِيْنَ تَرَى الْعَذَابَ لَوْ اَنَّ لِيْ
كَرَّةً فَاَكُوْنَ مِنَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۵۸﴾ بَلٰى قَدْ جَآءَتْكَ اٰيٰتِيْ فَكَذَّبْتَ بِهَا وَاسْتَكْبَرْتَ وَكُنْتَ مِنَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۵۹﴾ وَيَوْمَ
الْقِيٰمَةِ تَرَى الَّذِيْنَ كَذَبُوْا عَلَى اللّٰهِ وُجُوْهُهُمْ مُّسْوَدَّةٌ ؕ اَلَيْسَ فِيْ جَهَنَّمَ مَثْوًى لِّلْمُتَكَبِّرِيْنَ ﴿۶۰﴾ وَيُنَجِّي اللّٰهُ الَّذِيْنَ
اتَّقَوْا بِمَفَازَتِهِمْ ۚ لَا يَمَسُّهُمُ السُّوْٓءُ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿۶۱﴾ اَللّٰهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ ۫ وَّهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ وَّكِيْلٌ ﴿۶۲﴾ لَهٗ مَقَالِيْدُ

مسخرے کوونکونه په حق پورے (۵۶) یا اونه وائي که چرے اللّٰه تعالیٰ هدایت کړے وے ماته نو وے به ځه دَ متقیانونه (۵۷) یا اونه وائي کوم وخت چه اُوینی عذاب لره که چرے وے ما لره دوباره تلل دُنیا ته نو ځه به وے دَ ځائسته عمل کوؤنکو نه (۵۸) هان بلکه یقیناً راغلی وؤ تاته ایاتونه زما نو تکذیب اوکړو تا دَ هغے او لوئي دِ اوکړه او وے ته دَ کافرانو نه (۵۹) او په ورځ دَ قیامت کښ وینے به ته هغه کسان چه دروغ ئے وئیلی دی په اللّٰه تعالیٰ باندے مخونه دَ دوی به تور وی ایا نیشته په جهنم کښ ځائے دَ اوسیدو دَ لوئے کؤنکو دپاره (۶۰) او بچ به کړی اللّٰه تعالیٰ هغه کسانو لره چه ځان ئے ساتلے دے دَ شرك نه په سبب دَ کامیابئے دَ دوی نه به رسیږی دوی ته هیڅ تکلیف او نه به دوی غمژن وی (۶۱) اللّٰه تعالیٰ پیدا کوؤنکے دَ هر څیز دے او هغه په هرشیز باندے ذمه وار دے (۶۲) خاص هغه لره کنجیانے

[۵۶] دا دَ درے عذرونو (بهانو) دفع ذکر کوی یعنی که چرے قرآن نه وے نازل کړے شوے نو دوی به دا عذرونه کړے وے ﴿جَنۢبِ اللّٰهِ﴾ دا دَمتشابهاتونه دے په کیفیت کښ۔ اگرچه معنیٰ ئے ظاهره ده چه اړخ ته وئیلے کیږی اوپه معنیٰ ظاهری سره محکم دے اودَ ﴿فَرَّطْتُّ﴾ تَفریط،نه مرادشرك اوکفراوظلمونه گناهونه کول دی اودَ اللّٰه تعالیٰ حقونو کښ کمے کول اوسستی کول دی۔

[۵۷] دا دویم عذردے یعنی که دَ قرآن په رالیږلوسره اللّٰه تعالیٰ هدایت دَ حق نه وے کړے نو دے خلقو به عذر پیش کړے وے چه یا اللّٰه تعالیٰ تابه مونږ ته هدایت کړے وے لیکن هرکله چه قرآن دَ هدایت دپاره نازل کړے شویدے نو اوس دوی دا حجت (بهانه) نشی پیش کولے۔

[۵۸] دا دریم عذر دے یعنی که قرآن نه وے نازل کړے شوے نو چه دوی به دوباره دنیا ته راتلل غوختلے نوحق به ئے وؤ او اللّٰه تعالیٰ به داحق منلے وے لیکن هرکله چه قرآن نازل کړے شوے او دوی ته پوره عمرهم ورکړے شوے دے او قرآن نه منی نوکه قیامت کښ اوائي چه مادنیاته واپس کړه چه ځه ایمان راوړم نودا سوال به ئے نه قبلیږی بلکه ورته به هغه جواب اوشی کوم چه سورهٔ فاطر(۳۷) کښ تیرشویدے۔

[۵۹] د اجواب دے دَ دغه قولونوچه هرکله چه دوی په قیامت کښ دغه عذرونه پیش کړی نودویته به اللّٰه تعالیٰ اوفرمائي چه دا عذرونه قبول نه دی ځکه چه تاسوته زما ایاتونه راغلی وو لیکن تاسو انکارکړے وؤ۔

[۶۰] روستودَ ذکردَدفع دَ بهانونه تخویف اخروی ذکرکوی یعنی جرم ئے ثابت شو اوبهانه ئے ختم شوه نوشرمنده به وی اومخ به ئے توروی ﴿الَّذِيْنَ كَذَبُوْا عَلَى اللّٰهِ﴾ په دے کښ داخل دی مشرکان چه اللّٰه تعالیٰ ته نسبت دَ شریك او دَ ولدکوی او بقاعی وئیلی دی چه معتزله اوهغه څوك چه دروغ وائي اوخیال ئے داوی چه اللّٰه تعالیٰ زما دَ دروغونه خبرنه دے نوپه دے کښ هغوی هم داخل دی۔

[۶۱] په دے ایت کښ بشارت دے۔

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ط وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿٦٣﴾ ع قُلْ اَفَغَيْرَ اللّٰهِ تَاْمُرُوْٓنِّيْٓ اَعْبُدُ اَيُّهَا
الْجٰهِلُوْنَ ﴿٦٤﴾ وَلَقَدْ اُوْحِيَ اِلَيْكَ وَاِلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكَ ج لَئِنْ اَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ وَلَتَكُوْنَنَّ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿٦٥﴾
بَلِ اللّٰهَ فَاعْبُدْ وَكُنْ مِّنَ الشّٰكِرِيْنَ ﴿٦٦﴾ وَمَا قَدَرُوا اللّٰهَ حَقَّ قَدْرِهٖ ز وَالْاَرْضُ جَمِيْعًا قَبْضَتُهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ
وَالسَّمٰوٰتُ مَطْوِيّٰتٌۢ بِيَمِيْنِهٖ ط سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿٦٧﴾ وَنُفِخَ فِي الصُّوْرِ فَصَعِقَ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَمَنْ

دَ اسمانونو او زمکے دی او هغه کسان چه کفر ئیے کړے دے په ایاتونو دَ اللّٰه تعالیٰ دغه کسان خاص دوی پوره تاوان والادی (٦٣) ته اُوایه ایا سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه حکم کوئے تاسو ماته چه بندگی دِ اوکړم اے ناپوهانو (٦٤) او یقیناً وحی کړے شویده تاته او هغه کسانو ته چه ستانه مخکښ دی که چرے شرك دِ اوکړو خامخا برباد به شی عمل ستا او خامخا شے به ته دَ تاوان والونه (٦٥) بلکه خاص اللّٰه تعالیٰ لره بندگی کوه او یهٔ همیشه دَ شکرگذارو نه (٦٦) او قدر نه دے کړے دوی دَ اللّٰه تعالیٰ لائق قدر دَ هغه او زمکه ټوله موټے دَ هغه به وی په ورځ دَ قیامت او اسمانونه به انغښتے شوے وی په ځی لاس دَ هغه کښ پاك دے او اوچت دے دَهغے نه چه دوی ورسره شریك جوړوی (٦٧) او پوکے به اوکړے شی په شپیلئے کښ نو مړه به شی هغه څوك چه په اسمانونو کښ دی او هغه څوك

[٦٢] دا اووم دلیل عقلی دے اودوه کُلّی صفتونه دی، پیداکول دَهرڅه اوحفاظت اوذمه واری دَهرڅه اوداسبب دَتقویٰ دے۔

[٦٣] دااتم دلیل عقلی دے په دیکښ دریم صفت کلیه ذکردے یعنی اختیار دَ تصرف دَ هرڅه دَ اللّٰه تعالیٰ سره دے او چابیانے چه خاص دَ اللّٰه تعالیٰ سره دی نومعلومه شوه چه دَ خزانودَ ورکولو اختیار مندهم صرف هغه دے۔

[٦٤] داتفریع ده په تیرشوی دلیلونوباندے یعنی روستودَ دے ښکاره دلیلونونه په توحید فی العبادت باندے بیاهم تاسوماته دعوت راکوئے دَعبادت دَ غیراللّٰه دا خوږیولوے جهل دے دا دلیل دے په دے خبره باندے چه څوك دعوت ورکوی شرك ته نو هغه پوره جاهل دے۔

[٦٥،٦٦] دا علت دَماقبل دے یعنی دَ دے مشرکانوجاهلانودَ امر او دَ دعوت نه ځان بچ اوساته ځکه چه اتفاقی وحی دَ ټولوانبیاؤسره واضح شویده چه په شرك کولوسره هرعمل برباديږی۔دا دلیل دے په قباحت دَشرك باندے چه دَپیغمبرعمل ورته ټینګیدلے نشی نودَ نوروخلقوعمل به شرك ته څه رنګے ټینګ شی۔ اودَ پیغمبرنه خوګناه نه کیږی نولئن اشرکت خطاب په طریقه دَفرض او تقدیردے یعنی بالفرض والتقدیرکه پیغمبرشرك اوکړونوعملونه به ئیے برباد شی ﴿بَلِ اللّٰهَ فَاعْبُدْ﴾ مخکښ ایت کښ منع کول وو دَ شرك نه اوپه دے ایت کښ امرد توحید دے او ﴿الشّٰكِرِيْنَ﴾ نه مراد ظاهروَل اودعوت کول دَ توحید دی۔

[٦٧] دَ دے ایت نه ترآخر دَ سورة پورے پنځم باب دے په دے کښ زجراوتخویف اخروی دے په ذکردَ دریے حالاتوسره اول فناء دَ عالم دویم بعث اوحساب دریم جزاء اوبشارت تفصیلیه دیے۔ په دے(٦٧) کښ زجر دے مشرکین فی العبادت ته او ﴿قَدْرِهٖ﴾ په معنیٰ دَ تعظیم دے اوحق تعظیم دَاللّٰه تعالیٰ دا دے چه بندگی دَ هغه په داسے طریقه اوکړے شی چه هرقسم شرك نه پاکه بندگی وی او مشرك داسے نه کوی نو معلومه شوه

فِي الْاَرْضِ اِلَّا مَنْ شَآءَ اللّٰهُ ؕ ثُمَّ نُفِخَ فِيْهِ اُخْرٰى فَاِذَا هُمْ قِيَامٌ يَّنْظُرُوْنَ ﴿۶۸﴾ وَاَشْرَقَتِ الْاَرْضُ بِنُوْرِ رَبِّهَا وَوُضِعَ
الْكِتٰبُ وَجِايْٓءَ بِالنَّبِيّٖنَ وَالشُّهَدَآءِ وَقُضِيَ بَيْنَهُمْ بِالْحَقِّ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿۶۹﴾ وَوُفِّيَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَّا
عَمِلَتْ وَهُوَ اَعْلَمُ بِمَا يَفْعَلُوْنَ ﴿۷۰﴾ وَسِيْقَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِلٰى جَهَنَّمَ زُمَرًا ؕ حَتّٰٓى اِذَا جَآءُوْهَا فُتِحَتْ
اَبْوَابُهَا وَقَالَ لَهُمْ خَزَنَتُهَآ اَلَمْ يَاْتِكُمْ رُسُلٌ مِّنْكُمْ يَتْلُوْنَ عَلَيْكُمْ اٰيٰتِ رَبِّكُمْ وَيُنْذِرُوْنَكُمْ لِقَآءَ يَوْمِكُمْ

چه په زمکه کښ دی مګر هغه څوك چه غواړی الله تعالی بقا د هغوی بیا به پوکے اوکړے شی په هغے کښ بل ځل نو دغه وخت به دوی ولاړوی ګوری به (٦٨) او روښانه به شی زمکه (د قیامت) په نور د رب د هغے سره اوکیخودلے به شی عملنامے او را به اوستلے شی پیغمبران او شهیدان او فیصله به اوکړپشی په مینځ د دوی کښ په حقه سره او په دوی باندے به ظلم نه شی کیدے (٦٩) او پوره به ورکړپشی هر نفس ته بدله د هغه عملونو چه کړیدی او الله تعالی ښه پوهه دے په هغه کارونو چه دوی ئے کوی (٧٠) او اوبه شړلے شی کافران جهنم طرف ته ډلے ډلے ترهغے پورے چه راشی جهنم ته پرا به نستے شی دروازے د هغے او اوبه وائی دوی ته څوکیداران د هغے ایا نه وؤ راغلی تاسو ته رسولان ستاسونه چه لوستل ئے په تاسو باندے ایاتونه د رب ستاسو او ویره ئے درکوله تاسو ته د ملاقات د ورځے ستاسونه

چه مشرك بندګی د الله تعالی نه ده پیژندلے اونه ئے تعظیم کړے دے اونه ئے صفت د هغه کړے دے په لائق طریقے سره ﴿وَالْاَرْضُ جَمِيْعًا قَبْضَتُهٗ﴾ په دے کښ عظمت شان د الله تعالی ذکر کوی لفظ د جمیعاً دلالت کوی چه مراد د دے نه ټولے (اووه) زمکے دی او د قبض نه مراد رانیول د هغے دی په لاس کښ د دے وجے نه د قیامت تخصیص ئے کړے دے ﴿بِيَمِيْنِهٖ﴾ دا د متشابهاتونه دے په کیفیت کښ اوپه اعتبار د معنیٰ سره محکم دے یعنی خے لاس اوکیفیة د هغے الله تعالی پیژنی۔ بیا د قبضے اود یمین نه مشبهه او مجسمه دلیل نیسی چه د الله تعالی مشابه اوجسم شته دے نوجواب ئے اوکړوچه ﴿سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ﴾ یعنی په قدرت اوعلم کښ د هغه شریك اودارنګ شبیه ئے نیشته نوعبادت کښ ئے هم شریك نیشته دے۔

[٦٨] په دے کښ تخویف اخروی دے اوپه دے کښ سره د ماقبل نه حال د فناء د عالم ذکر کوی۔ ﴿فَصَعِقَ﴾ صعق په معنیٰ د مرګ دے اویا په معنیٰ د بے هوشئ سره دے دلته په اوله معنیٰ سره غوره دے۔ ﴿اِلَّا مَنْ شَآءَ اللّٰهُ﴾ په دے کښ ډیر اقوال دی د قتاده قول دا دے چه د دے مصداق الله تعالی ته معلوم دے مونږته نه دے معلوم، دویم قول مشهوردا دے چه مراد ترینه هغه څوك دی چه الله تعالی د فنا د پاره نه دی پیداکړی لکه حورے غلمان د جنّت او ماران لړمانان د جهنم، دریم قول کښ ملائك مراد دی چه هغوی به نه وفات کیږی، څلورم قول دا دے چه د دے نه مراد هغه خلق دی چه محکښ مړه شویدی او فصعق ئے د دے وجے نه ذکر کړو چه په دغه وخت کښ د دوی د مرګ سبب به هیبت د قیامت وی ۔ او د دے ایت نه صراحةً معلومه ده چه شپیلۍ به دوه کرته وهلے کیږی اول د فنا دپاره او هغے نه فزع هم وائی لکه سورة نمل (٨٧) کښ دی اوصعق ورته هم وئیلے کیږی او دویمه د بعث بعد الموت د پاره ده۔

[٦٩، ٧٠] په دے کښ د ورځ د بعث او د حساب بعض حالت ذکر کوی ﴿وَالشُّهَدَآءِ﴾ دا تعمیم ئے روستو د تخصیص نه یعنی انبیاء به د شهادت دپاره حاضر کړے شی نو دارنګ نور شهادت ورکوؤنکی

هٰذَا ؕ قَالُوْا بَلٰى وَلٰكِنْ حَقَّتْ كَلِمَةُ الْعَذَابِ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ﴿۷۱﴾ قِيْلَ ادْخُلُوْۤا اَبْوَابَ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۚ
فَبِئْسَ مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِيْنَ ﴿۷۲﴾ وَسِيْقَ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ اِلَى الْجَنَّةِ زُمَرًا ؕ حَتّٰۤى اِذَا جَآءُوْهَا وَفُتِحَتْ اَبْوَابُهَا
وَقَالَ لَهُمْ خَزَنَتُهَا سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ طِبْتُمْ فَادْخُلُوْهَا خٰلِدِيْنَ ﴿۷۳﴾ وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ صَدَقَنَا وَعْدَهٗ
وَاَوْرَثَنَا الْاَرْضَ نَتَبَوَّاُ مِنَ الْجَنَّةِ حَيْثُ نَشَآءُ ۚ فَنِعْمَ اَجْرُ الْعٰمِلِيْنَ ﴿۷۴﴾ وَتَرَى الْمَلٰٓئِكَةَ حَآفِّيْنَ مِنْ حَوْلِ
الْعَرْشِ يُسَبِّحُوْنَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ ۚ وَقُضِيَ بَيْنَهُمْ بِالْحَقِّ وَقِيْلَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۷۵﴾ ع ۵

چه دا ده دوی به اُوائي هاں (ولے نه) لیکن پوره شویوه فیصله دَ عذاب په کافرانو باندے (۷۱) او به وئیلے شی ورننوځئ دروازو دَ جهنم ته همیشه به ئیے په هغے کښ نو ناکاره دے ځائے دَ اوسیدلو دَ تکبر کوؤنکو (۷۲) او روان به کړیشی (عزت سره) هغه کسان چه ویره کړیده دَ رب خپل نه جنت ته ډلے ډلے ترهغے پورے چه کله راشی هغے ته او پرانستلے شوے به وی دروازے دَهغے او اوبه وائي دوی ته خوکیداران دَ هغے سلام دے وی په تاسو باندے خوشحاله اوسئے تاسونو داخل شئے (جنت ته) همیشه به ئیے تاسو (۷۳) او دوی وائي ستائنه دَ خدائے اللّٰه تعالیٰ لره ده هغه ذات دے چه رشتینے کړے ده مونږسره وعده خپله او میراثه کښ راکړه مونږته زمکه دَ جنت ځائے نیسو مونږ دَ جنت نه کوم ځائے چه مونږ غواړونوښه دے ثواب دَ ښه عمل کوؤنکو (۷۴) او وینے به ته ملائکو لره کیره جوړوؤنکی چاپیره دَ عرش نه تسبیح به وائی سره دَ ستائنے دَ رب دَ دوی نه او فیصله به اوکړیشی په مینځ دَ دوی کښ په حقه سره او وئیلے کیږی به چه صفتونه دَ خدائیتوب دَ یو اللّٰه تعالیٰ دی چه رب دَعالمینو دے (۷۵)

ملائك، مؤمنان او اندامونه دَمجرمانو به هم حاضر کړیشی۔

[۷۱] په دے کښ تقسیم دَ جزا اوسزا ذکرکوی روستودَ حساب او دَ شهادت نه نو په دے ایت کښ تخویف اُخروی دے په ذکرکولودَحال دَ منکرینوسره ﴿زُمَرًا﴾ هغه جماعتونوته وئیلے کیږی چه دَ هغوی په مینځ کښ تفرقه ښکاره وی کفر اګر چه ملت واحده دے لیکن په اقسامو دَ هغے کښ ډیر فرق دے۔ ﴿فُتِحَتْ اَبْوَابُهَا﴾ سورة حجر(٤٤) کښ تیرشویدی چه اووه دروازے دی اوپه دے کښ اشاره ده چه دوی ته دَ مخکښ نه دروازے پرانزی دا دَ دوی تذلیل دے۔

[۷۲] روستودَ الزام دَ حجت نه په دوی باندے حکم دَ دخول جهنم دے ﴿الْمُتَكَبِّرِيْنَ﴾ علت دَ عذاب کفردے اوعلت دَ تذلیل چه په دے ایاتونو کښ ذکر شوهغه تکبر دَ دوی دے دَ دے وجے نه داصفت دَ دوی ئیے ذکرکړو۔

[۷۳] دا بشارت اُخرویه تفصیلیه دے ﴿وَسِيْقَ﴾ مخکښ هم دا لفظ وؤلیکن هلته سوق دَ ذلت او دَ اهانت وؤاودلته سوق دَاکرام اودَ عزت دے اواکثر مفسرینو وئیلی دی چه دلته سوق دَ سورولودَ جنتیانو مراد دے ﴿زُمَرًا﴾ دوی هم مختلف امتونه دی دَ هر رسول جدا جدا امت دے یا مراد ترینه مختلف عملونو والادی یعنی شهیدان او علماء او دعوت وتبلیغ کوؤنکی وغیرهم په چاچه کوم صفت غالب وی نو په هغه صفت کښ به روان کړیشی ﴿وَفُتِحَتْ﴾ (یعنی هرکله چه دوی راشی نوخوشحاله به کړے شی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سُوْرَةُ المؤمن (۴۰) مَكِّيَّةٌ (۶۰) | اٰيَاتُهَا ۸۵ رُكُوْعَاتُهَا ۹

(بقیه تفسیر دَ سورة الزمر) په ډیرو نعمتونو سره) اوخاص په نعمت دَ فتح الابواب سره او دا اشاره ده دَ دوی اکرام او عزت ته چه مخکښ دَ راتللونه به دروازے کولاؤ وی لکه سورة ص(۵۰) کښ تیر شویدی۔

[۷۴] داهم بشارت کښ داخل دے ﴿الْاَرْضَ﴾ مراد دَ دے نه زمکه دَ جنت ده او میراث ورته په دے وجه وئیلے کیږی چه حاصلیږی بغیرد داسے محنت نه چه دَ هغے سره مناسب وی۔

[۷۵] په دے کښ عظمت اوهیبت دَ ورځے دَ قیامت ذکرکوی ﴿مِنْ حَوْلِ الْعَرْشِ﴾ حرف دَ مِنْ کښ اشاره ده چه په ټول عرش باندے ملائك احاطه نشی کولے دَ وجے دَ ډیر عظمت دَ عرش نه۔

سورة المؤمن

اودَ دے بل نوم سورة غافراوبل سورة الطول دے۔

دَ دے سورة نه ترسورة احقاف پورے اووهٔ سورتونه په حواميموسره مشهوردی او دا دریم باب دے۔ خازن او خطیب دَ ابن عباس رضی اللّٰه عنهما نه روایت ذکرکړے دے چه دَ هرځیز مغز(خلاصه) وی او دَ قرآن مغز حواميم دی نوکه داروایات صحیح ثابت شی نو دلالت به اوکړی په عظمت دَ دے سورتونو باندے۔

ربط: دَ دے سورة دَ ماقبل سره په ډیرو وجوهو سره دے اوله وجه دا ده چه سورة زمرکښ رد وؤ په شرك فی العبادة باندے نو په دے سورة کښ رد دے په شرك فی الدعاء باندے چه هغه جزء دَ عبادت دے ۔ دویمه وجه داده چه په هغه سورة کښ تخویف دنیوی اجمالی وؤ او په دے سورة کښ دَ تفصیل دَ هغے دپاره واقعه دَ فرعونیانو ذکرکوی۔

دعویٰ دَ دے سورة: رد دے په شرك فی الدعاء باندے اواثبات دَتوحید فی الدعاء دے (اوهغه ئے اووُه کرته ذکرکړے په (۱۲،۱۴،۲۰،۴۳،۶۰،۶۵،۷۴)کښ اودا په پنځه طریقو سره دے۔ اول په رد دَ جمیع اقسامودَ شرك سره۔ دویم په اته عقلی دلیلونوسره دریم په واقعه دَ رجل مؤمن سره، څلورم په اهلاك دَ فرعونیانو سره په سبب دَ انکار دَ هغوی دَ توحید نه اوپنځم په ذکردَ عظمت دَ دے مسئلے سره۔

خلاصه دَ سورة : داده چه دا سورة تقسیم دے درے باباونوته اول باب تر(۱۴) پورے دے په دے کښ څلور عنوانات دی او دا تمهید دے دَپاره دَ دعوے دَ سورة او دَ هغے عظمت ذکرکوی اول ترغیب دے الی القرآن په ذکر دَ نهه صفاتو دَ اللّٰه تعالی سره۔ دویم عنوان زجر او تخویف دنیوی او اُخروی هغه کسانوته چه په قرآن اوپه دعوٰی دَ دے سورة کښ جدال کوی ۔ دریم بشارت دے مؤمنانوته په ذکر دَ دعاګانو دَ ملائکو سره دَپاره دَمؤمن، څلورم تخویف اُخروی منکرانوته او سبب دَ عذاب ذکر کوی چه انکار عن التوحید دے۔

حٰمٓ ﴿۱﴾ تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْعَلِيْمِ ﴿۲﴾ غَافِرِ الذَّنْۢبِ وَقَابِلِ التَّوْبِ شَدِيْدِ الْعِقَابِ ذِي
الطَّوْلِ ؕ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ؕ اِلَيْهِ الْمَصِيْرُ ﴿۳﴾ مَا يُجَادِلُ فِيْۤ اٰيٰتِ اللّٰهِ اِلَّا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فَلَا يَغْرُرْكَ تَقَلُّبُهُمْ
فِي الْبِلَادِ ﴿۴﴾ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوْحٍ وَّالْاَحْزَابُ مِنْۢ بَعْدِهِمْ ۪ وَهَمَّتْ كُلُّ اُمَّةٍۢ بِرَسُوْلِهِمْ لِيَاْخُذُوْهُ
وَجٰدَلُوْا بِالْبَاطِلِ لِيُدْحِضُوْا بِهِ الْحَقَّ فَاَخَذْتُهُمْ ۫ فَكَيْفَ كَانَ عِقَابِ ﴿۵﴾ وَكَذٰلِكَ حَقَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ عَلَى

حا میم (۱) نازلول دَ دے کتاب دَطرف دَ اللّٰہ تعالیٰ نه دی زور آور دے پوهه دے (۲) بخنه کوؤنکے دَګناه دے او قبلؤنکے دَ توبے دے سخت عذاب ورکوؤنکے دے خاوند دَ طاقت دے نیشته واکدار سیوا دَ هغه نه خاص هغه ته دی ګرځیدل (۳) جګړه نه کوی په ایاتونو د اللّٰہ تعالیٰ کښ مګر کافران نو دهوکه دے نه کړی تاله ګډوډ ګرځیدل دَ دوی په بنارونو کښ (٤) تکذیب کړے وؤ مخکښ دَ دوی نه قوم دَ نوح(علیہ السلام) او نورو مخالفو ډلو روستو دَ دوی نه اوپوخ قصد کړے وؤ هر امت په باره دَ رسول خپل کښ دپاره دَ دے چه اونیسی هغه (دَ قتل کولو دپاره) او جګړه کوله دوی په باطل سره دپاره دَ دے چه اونوړوی په دے سره حق لره نو اونیول ما هغوی نو څه رنګ شو عذاب زما (٥) دغه شان پوره شوه یوه فیصله دَ رب ستا په

تفسیر

[۱] دا دَ مقطعاتونه دے دَ دے بحث مخکښ باربار تیرشویدے غوره دا ده چه دا اشاره ده اعجاز دَ قرآن کریم ته دَ دے وجے نه ورپسے عظمت دَ قرآن کریم ذکر کوی۔

[۲،۳] په دے کښ ترغیب دے قرآن ته اوبیان دَ عظمت دَ هغهٔ دے په ذکرکولو دَ نهه صفاتِ عظیمه دَ نازلوؤنکی چه اللّٰہ تعالیٰ دے او دا اول عنوان دے دَ عنواناتونه چه خلاصه کښ ذکرشویدی ﴿الطَّوْلِ﴾ په معنیٰ دَ غنا سره یعنی مستغنی دے دَ مشرکانونه او (طَوْل) فضل، انعام او قدرت ته وئیلے کیږی۔ قرطبی او خطیب شربینی وغیره واقعه دَ عمرؓ لیکلے ده چه هغه یو شرابی ته خط کښ دا ایاتونه اولیکل هغه ته چه او رسیدلو نوژړائیے اوکړه اوتوبه ئے اویستله او عمرؓ خلقوته اوئیل چه یو رورموپه لغزش کښ پریوتے وی نو داسے عمل ورسره کوئے اودَ توبے اومغفرت دعا ورله کوئے اوشیطان ته ئے مه پریږدئے۔

[٤] دا زجردے مجادلینوته اودا دویم عنوان دے چه په قرآن او دَ دے په مقصد کښ چه توحید دے څوک جګړے کوی نو هغه کافروی او حدیث مرفوع کښ ذکر دی چه جدال په قرآن کښ کفر دے اوبل حدیث کښ روایت دے چه دا جدال سبب دَ هلاکت دَ مخکنوخلقودے۔ اومراد دَ جدال نه طعن کول په قرآن کښ چه داسحر دے شعردے کهانت دے وغیره اوپه دے باندے شبهات اواعتراضونه کول دی او دے ته جدال بالباطل وئیلے کیږی او په دے سورة کښ داپه مختلف تعبیراتوسره ذکردے په (٥٦،٣٥،٥) کښ۔ ﴿فَلَا يَغْرُرْكَ﴾ په دے کښ جواب دَوهم دے که دا مجادلین کافروے نو په دنیا کښ دَ دوی مزے اومالداری ولے ده جواب اوشو چه دا مزے نه دی بلکه تَقَلُّبُ، دے۔ یعنی اګرچه دَ دوی جائیدادونه اوتجارتونه اولښکرے وغیره ډیردی لیکن دا سبب دَ پریشانئے اودَتکلیفونو دے اطمینان ورله نیشته۔

[٥] دا تخویف دنیوی دے په ذکردَ مجادلینوتیرشوؤسره اودَ عذاب دَ هغوی سره اودَ هغوی درے

الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَنَّهُمْ اَصْحٰبُ النَّارِ ۝۶ اَلَّذِيْنَ يَحْمِلُوْنَ الْعَرْشَ وَمَنْ حَوْلَهٗ يُسَبِّحُوْنَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَيُؤْمِنُوْنَ
بِهٖ وَيَسْتَغْفِرُوْنَ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۚ رَبَّنَا وَسِعْتَ كُلَّ شَيْءٍ رَّحْمَةً وَّعِلْمًا فَاغْفِرْ لِلَّذِيْنَ تَابُوْا وَاتَّبَعُوْا سَبِيْلَكَ
وَقِهِمْ عَذَابَ الْجَحِيْمِ ۝۷ رَبَّنَا وَاَدْخِلْهُمْ جَنّٰتِ عَدْنِ ِالَّتِيْ وَعَدْتَّهُمْ وَمَنْ صَلَحَ مِنْ اٰبَآئِهِمْ وَاَزْوَاجِهِمْ وَ
ذُرِّيّٰتِهِمْ ۭ اِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝۸ وَقِهِمُ السَّيِّاٰتِ ۭ وَمَنْ تَقِ السَّيِّاٰتِ يَوْمَىِٕذٍ فَقَدْ رَحِمْتَهٗ ۭ وَذٰلِكَ هُوَ
الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ۝۹ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا يُنَادَوْنَ لَمَقْتُ اللّٰهِ اَكْبَرُ مِنْ مَّقْتِكُمْ اَنْفُسَكُمْ اِذْ تُدْعَوْنَ اِلَى الْاِيْمَانِ ع ۴

کافرانو باندے چه دوی او سیدونکی دَ اور دی همیشه (٦) هغه ملائك چه پورته کوی عرش دَ الله تعالی او هغه چه چا پیره دَ هغے نه دی تسبیح وائي سره دَ ستائیے دَ رب دَ دوی نه او ایمان راوړی په هغه باندے او بخنه غواړی دپاره دَ مؤمنانو (وائي دوی) اے ربه زمونږ راګیر کړے دے تا هر څیز په رحمت او علم کښ نو بخنه اوکړه هغه چاته چه توبه ئیے کړے ده دَشرك نه او تابعداری کړے ده ستا دَ لارے او بچ اوساتے دوی لره دَ عذاب دَ اور نه (٧) اے ربه زمونږ او داخل کړے دوی جنتونو دَ دیره کیدلوته هغه چه تا وعده کړے ده دَ دوی سره او هغه څوك چه جوړه وی (دَ دوی سره) دَ پلارانو دَ دوی نه او دَ بیبیانو دَ دوی نه او دَ اولاد دَ دوی نه یقیناً ته زورآور حکمتونو والا ئے (٨) او بچ ساتے دوی لره دَناکاره عقوبتونونه او هغه څوك چه تا بچ اوساتل دَ ناکاره عقوبتونونه په دے ورځ نو یقیناً رحم اوکړو تا په هغه باندے او دا کامیابی لویه ده (٩) یقیناً هغه کسان چه کفرئیے کړے دے اوازبه ورکیدیشی دوی ته (دَ قیامت په ورځ) چه خامخا غصه دَ الله تعالی ډیره ده دَ غصے ستاسونه نن په ځانونو ستاسو باندے کله چه بللے کیدلئے به تاسو ایمان ته

مرضونه ئیے ذکرکړی دی تکذیب اودویم تکلیف ورکول رسولانوته دریم جدال بالباطل ﴿لِيَاْخُذُوْهُ﴾ مراد دَ دے نه قیدَول اوقتل کول اونور تکلیفونه ورکول دی ﴿بِالْبَاطِلِ﴾ مراد دَ دے نه شبهاتِ باطله دی چه هیڅ حقیقت ئیے نیشته ﴿لِيُدْحِضُوْا بِهِ الْحَقَّ﴾ دا مقصد دَجدال دَدوی دے۔

[٦] په دے کښ تخویف اُخروی دے ﴿حَقَّتْ كَلِمَتُ﴾ لزوم دَکلمے نه مراد په تقدیرکښ فیصله کول دی یا صدوردَ فیصلے دَ الله تعالی دے په وخت دَ کولو دَ دوی کښ۔

[٧،٨،٩] په دے ایاتونو کښ بشارت دے مؤحدینوته روستودَ تخویف دَ منکرینونه او دا دریم عنوان دے اوهرکله چه ئیے دَ کافرانو دُشمنی ذکرکړه دَ مؤمنانو سره نو اوس ذکرکوی دوستانه اوشفقت دَ ملائکو په مؤمنانو باندے دَپاره دَ تسلّیٔ دَ دوی ﴿الَّذِيْنَ يَحْمِلُوْنَ الْعَرْشَ﴾ تخصیص دَ دے ملائکو ئیے دَ دے وجے نه اوکړوچه دوی ډیر مقرب اولوی شان او قوت والادی حدیث دَ جابرﷺ کښ مرفوعاً راغلی دی چه رسول اللهﷺ دَ حملة العرش دَ ملائکونه دَ یوملك حال ذکرکړوچه دَ غوږ دَ نرمے نه ئیے تراوګے پورے دَ اوؤ سوؤ کلونو مزل دے او دَ دے ملائکو صحیح عدد الله تعالی ته معلوم دے ځکه چه په دے کښ صحیح حدیث مرفوع نیشته ﴿وَيَسْتَغْفِرُوْنَ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا﴾ اشاره ده چه دوی خیر خواه دَ مؤمنانو دی نو معلومه شوه چه اشتراك په عقیده دَ توحید کښ سبب دَ محبت او دَ نصیحت (خیرخواهئی) دے او په دے کښ ترغیب

فَتَكْفُرُوْنَ ﴿۱۰﴾ قَالُوْا رَبَّنَآ اَمَتَّنَا اثْنَتَيْنِ وَاَحْيَيْتَنَا اثْنَتَيْنِ فَاعْتَرَفْنَا بِذُنُوْبِنَا فَهَلْ اِلٰى خُرُوْجٍ مِّنْ سَبِيْلٍ ﴿۱۱﴾ ذٰلِكُمْ بِاَنَّهٗٓ اِذَا دُعِيَ اللّٰهُ وَحْدَهٗ كَفَرْتُمْ ۚ وَاِنْ يُّشْرَكْ بِهٖ تُؤْمِنُوْا ۭ فَالْحُكْمُ لِلّٰهِ الْعَلِيِّ الْكَبِيْرِ ﴿۱۲﴾ هُوَ

نوتاسو به کفر کوؤ (۱۰) دوی به اُوائي اے ربه زمونږ مرګ راوستلے دے تا په مونږ باندے دوه کرته او ژوند دے را کړیدے دوه کرته نو اقرار کوؤ مونږ په ګناهونو خپلو باندے نو ایا شته دے وتلوته څه لار (۱۱) دا دَ دے وجے نه چه کله به بللے کیدے شو اللّٰه تعالیٰ په یو والی سره نو تاسو به انکار کوؤ او که چرے شرك به کیدے شو دَهغه سره نو تاسو به ایمان راوړو نو اختیار دَ یو اللّٰه تعالیٰ دے چه اوچت دے اولوے دے (۱۲) خاص اللّٰه تعالیٰ

دے ایمان راوړلوته ﴿وَسِعْتَ كُلَّ شَيْءٍ رَّحْمَةً وَّعِلْمًا﴾ داهم وسیله ده په دوه صفتونودَ اللّٰه تعالیٰ سره ځکه چه دَ اجابت دَ دعا دپاره رحمت عظیمه اوعلم په حالاتودَ دعاکوؤنکی باندے ضروری دے﴿وَاتَّبَعُوْا سَبِيْلَكَ﴾په تابواکښ اشاره وه عقیدے دَتوحیداو اجتناب عن الشرك ته اوپه وَاتَّبَعُوْا کښ اشاره ده عمل صالح ته﴿وَمَنْ صَلَحَ﴾یعنی چاچه دَمؤحد سره په توحیدکښ موافقت کړیدے پلار،ښځے اولاد اګرچه مجاهده ئے دَ دغه کس پشان نه ده کړے لیکن دوی لره به دَهغه دَپوره خوشحاله کولودَپاره جنت ته داخل کړے شی اودارنګ سورة رعد(۲۳)کښ تیر شویدی۔ دَمطرف قول دے چه دپیرخیرخواه په بندګانودَ اللّٰه تعالیٰ کښ دَ بندګانودپاره ملائك دی په سبب دَ دے اياتونواوبدخواه په مخلوق کښ دَمخلوق دَپاره شیطان دے۔

[۱۰] دا تخویف شدید دے کافرانومجادلینوته روستودَعظمت شان دَمؤمنانونه اودا څلورم عنوان دے۔ ﴿يُنَادَوْنَ﴾ اوازبه ورکیدے شی دَقیامت په ورځ اودوی به په جهنم کښ وی اوځان ته به دپیرغصّه وی۔ ﴿مِنْ مَّقْتِكُمْ اَنْفُسَكُمْ﴾ اوداغصّه دَ دوی په قیامت اوپه جهنم کښ ده ﴿اِذْتُدْعَوْنَ اِلَى الْاِيْمَانِ﴾ دا متعلق دے په لمقت اللّٰه پورے یعنی دَ اللّٰه تعالیٰ غصّه په تاسو باندے په دنیا کښ وه چه کله به تاسوته دعوت او تبلیغ دَ ایمان کیدے شواوتاسوبه انکارکوؤاودا غصّه دَ اللّٰه تعالیٰ ستاسودَ دے غصّے نه دپیره لویه ده۔

فائده: مقت سخت غضب او بغض ته وئیلے کیږی او دا صفت دَ اللّٰه تعالیٰ دے څه رنګ چه دَ هغه دَ شان سره خائیګی تاویل ته هیڅ ضرورت نیشته۔

[۱۱] دا جواب دَ هغوی دے په طریقه دَ اقرارجرم سره دَ دے دَپاره چه دَ جهنم نه اوځی اودنیاته واپس لاړشی۔

فائده: په دے ایت کښ دوه مرګونه اودوه ژوندونه ئیے ذکرکړی دی لکه چه سورة بقره(۲۸)کښ ذکروو په دے کښ اول قول دا دے چه دَ اول مرګ نه مرادوجود دَ دوی وؤ په شکل دَ نطفے سره په ارحامو دَ میندو کښ او دَ دویم مرګ نه مراد مشهور مرګ دے او دَ اول حیات نه مراد روح اچول دی په بدن کښ په ارحامودَ میندوکښ او بیا دنیا ته بهر راوتل او دویم ژوند روح اچول دی په دغه بدن کښ په ورځ دَقیامت اوهغے ته بعث بعد الموت وئیلے کیږی اوداسے ترتیب په سورة مؤمنون دَ (۱۲) نه تر(۱۶) پورے ذکرکړے دے۔ په دے قول کښ په نطفه باندے دَ میت اطلاق په طریقه دَ تشبیه یا مجازسره شویدے اودا قول دَ ابن عباس اوابن مسعود اوقتاده اوضحاك نه مفسرینو نقل کړیدے اودا غوره دے په دے کښ دَ

الَّذِیْ یُرِیْكُمْ اٰیٰتِهٖ وَیُنَزِّلُ لَكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ رِزْقًا ؕ وَمَا یَتَذَكَّرُ اِلَّا مَنْ یُّنِیْبُ ﴿۱۳﴾ فَادْعُوا اللّٰهَ مُخْلِصِیْنَ
لَهُ الدِّیْنَ وَلَوْ كَرِهَ الْكٰفِرُوْنَ ﴿۱۴﴾ رَفِیْعُ الدَّرَجٰتِ ذُو الْعَرْشِ ۚ یُلْقِی الرُّوْحَ مِنْ اَمْرِهٖ عَلٰی مَنْ یَّشَآءُ مِنْ
عِبَادِهٖ لِیُنْذِرَ یَوْمَ التَّلَاقِ ﴿۱۵﴾ یَوْمَ هُمْ بٰرِزُوْنَ ۚ۬ لَا یَخْفٰی عَلَی اللّٰهِ مِنْهُمْ شَیْءٌ ؕ لِمَنِ الْمُلْكُ الْیَوْمَ ؕ

هغه ذات دے چه ښائي تاسو ته دلیلونه او راوروی تاسو لره دَ اسمان نه روزی او نصیحت نه قبلوی مګر هغه څوك چه ورګرځی الله تعالیٰ ته (۱۳) نو حاجتونه غواړئ دَ الله تعالیٰ نه خالص کوؤنکی ئیے هغه دپاره بلنه کول اګر چه بدګنړی کافران (۱٤) (الله تعالیٰ) او چتوؤنکے دَ درجو دے عرش والا دے را غورځوی وحی په حکم خپل سره په هغه چاچه اوغواړی دَ بندګانو خپلونه دے دپاره چه ویره ورکړی دَ ورځ دَ ملاقاتونو نه (۱۵) هغه ورځ چه دوی به بښکاره وی نه دے پټ په الله تعالیٰ باندے دَ دوی نه هیڅ ځیز دَ چا ده بادشاهی نن

قبر دَ حیات ذکرنه دے شوے ځکه چه هغه حیات حقیقیه نه دے۔

[۱۲] ﴿فَالْحُكْمُ لِلّٰهِ﴾ داجمله هم علت دے چه نجات نیشته دَ دے وجے نه چه اختیاردَالله تعالیٰ دے او رد دے په مشرکانو باندے هغوی عقیده لره چه زمونږشفعاؤته اختیاردے مونږبه بچ کوی دَ تکلیف نه په دنیا او آخرت کښ۔

[۱۳] دا دلیل عقلی دَتوحید دے اوعلت دے دپاره دَ دے چه فَالْحُكْمُ لِلّٰهِ، اودفع دَ عذردَ مشرکانوده په اظهاردَ دلیلونوسره په دنیاکښ ﴿اٰیٰتِهٖ﴾ مراد دَ دے عقلی دلیلونه په محسوساتودَ دنیاسره آسمانونه،زمکے، غرونه، نمر، سپوږمئے، ستوری، هواګانے، وریځے، بارانونه، اونے اوبوتی وغیره دی ﴿رِزْقًا﴾ مراد ترینه سبب دَ رزق دے یعنی باران، ﴿اٰیٰتِهٖ﴾ کښ اصلاح او قوام دَ دین ته اشاره ده او رِزقاً کښ اصلاح اوقوام دَ بدن ته اشاره ده۔

[۱٤] دَ دے اٰیت نه تر(۵۱) پورے دویم باب دے په دے کښ دعویٰ دَ سورة ده او عظمت دَ هغه دعوے دے په ذکر دَ صفاتو دَ الله تعالیٰ سره دَ تخویف اُخروی او دنیوی نه دپاره دَ منکرینو دَ دغه دعوے تر (۲۲) پورے بیا مثال دَ تخویف په واقعه دَ فرعون سره اوتشجیع په تبلیغ دَ توحید باندے په مکالمه دَ رجلِ مؤمن سره اوپه آخر کښ تخویف اُخروی په ذکر دَ برائت دَ متبوعینو دَ اتباعو خپلونه په شرك اوکفرکښ۔په دے (۱٤) کښ دعویٰ دَ سورة ده یعنی امرپه توحید فی الدعاء او رد دَ شرك فی الدعاء اوفائے دَ دے وجے نه راؤړه چه دا تفریع ده په تیرشوی عنواناتوباندے ﴿مُخْلِصِیْنَ لَهُ﴾ اخلاص برائت دے دَ هرقسم شرك جلی اوخفی اودَتشبیه نه﴿وَلَوْ كَرِهَ الْكٰفِرُوْنَ﴾ اشاره ده چه څوك توحید فی الدعا بدګنړی نوهغه کافروی اودارنګ اشاره ده چه په دے مسئله کښ به دَ منکرینو دَ طرف نه هرقسم مصیبتونه راځی چه په هغے باندے صبرکول ضروری دی۔

[۱۵]په دے کښ درے صفات دَ الله تعالیٰ ذکرکوی دپاره دَترغیب دَ توحید فی الدعاء اودا عظمت دَ دعوے دے ﴿رَفِیْعُ الدَّرَجٰتِ﴾ په معنیٰ دَ مرتفع دے یعنی حقدار دَ اوچتو درجو دَ مدحِ او دَ ثناء دے یا په معنیٰ دَ رافع دے یعنی اوچتوؤنکے دَ درجاتودَ مؤحدینودے په آخرت کښ او اوچتوی درجے دَبعض خلقوپه

لِلّٰهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ ﴿۱۶﴾ اَلْيَوْمَ تُجْزٰى كُلُّ نَفْسٍ بِمَا كَسَبَتْ ؕ لَا ظُلْمَ الْيَوْمَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ﴿۱۷﴾
وَاَنْذِرْهُمْ يَوْمَ الْاٰزِفَةِ اِذِ الْقُلُوْبُ لَدَى الْحَنَاجِرِ كٰظِمِيْنَ ؕ مَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ حَمِيْمٍ وَّلَا شَفِيْعٍ
يُّطَاعُ ﴿۱۸﴾ يَعْلَمُ خَآئِنَةَ الْاَعْيُنِ وَمَا تُخْفِي الصُّدُوْرُ ﴿۱۹﴾ وَاللّٰهُ يَقْضِيْ بِالْحَقِّ ؕ وَالَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ

دَ اللّٰه تعالیٰ دە چه یودے زورآور دے (۱۶) نن به بدله ورکیدے شی هر نفس ته دَ هغه عمل چه هغه کړے وی زیاتے نیشته نن یقیناً اللّٰه تعالیٰ زر حساب کوؤنکے دے (۱۷) او ویره ورکړه دوی ته دَ ورځ دَ نزدے اُفت نه کله چه زړونه به دَ غټو مرو سره وی ډك به وی غم نه، نه به وی ظالمانو لره هیڅ دوست ګرم او نه سفارشی چه دَ هغه خبره منلے کیدیشی (۱۸) پوهه دے اللّٰه تعالیٰ په پټ نقصان دَ سترګو باندے او هغه چه پټوی ئے سینے (۱۹) او اللّٰه تعالیٰ پوره ورکوی حق لره او هغه کسان چه دوی ترینه حاجتونه غواړی سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه

بعضوباندے په دنیاکښ ﴿يُلْقِي الرُّوْحَ﴾ مراد دے نه وحی ده ځکه چه په هغے سره حیات ایمانی حاصلیږی او ﴿عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ﴾ نه مراد انبیاء علیهم السلام دی او فعل مضارع دپاره دَحکایت دَ حال ماضیه دے یعنی وحی ئے رالیږلے ده په انبیاء علیهم السلام اوپه دے نبی ﷺ باندے یا مراد دَ روح نه قرآن دے نو مراد دَ عباده نه په دے امت کښ هغه خلق دی چه هغوی ته اللّٰه تعالیٰ علوم دَ قرآن کریم اوتوفیق دَ عمل ورکړے وی ﴿يَوْمَ التَّلَاقِ﴾ دا نوم دَ ورځ دَقیامت دے ځکه چه ملاقات (یوځائے کیدل) دَ روح اوشی دَبدن سره اوملاقات دَ هرچابه اوشی دَ خپلے جزاء دَ اعمالو سره او ملاقات به اوشی دَ عابدانو او معبودانو او ظالمانو او مظلومانو او دَ آسمان والو او دَ زمکے والو اودَ اولینو اودَ آخرینودا لفظ دے ټولوته عام اوشامل دے۔

[۱۶] په دے کښ هیبت شان دَ ورځ دَ قیامت اودَ اللّٰه تعالیٰ څلورصفتونه ذکرکوی ﴿لِمَنِ الْمُلْكُ الْيَوْمَ﴾ په دے سوال اوجواب کښ اقوال دی اول قول دا دے چه اللّٰه تعالیٰ به یومنادی (ملك) ته امراوکړی نوهغه به دا آواز اوکړی نوټول مؤمنان اوکافران به دا جواب ورکړی او دا قول دَ ابن مسعود ﷺ دے ـدویم قول دادے چه سوال اوجواب دواړه دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه دی۔ دریم قول دا دے چه ملائك به یوبل ته دا سوال اوجواب کوی او انسانانوته به ئے آوروی۔

[۱۷] دا نوراحوال دَ ورځے دَ قیامت ذکرکوی اوتفریع ده په مخکښ صفتونودَ اللّٰه تعالیٰ باندے یعنی هرکله چه ثابته شوه چه عالم دے په هرڅه باندے اوبادشاه دے دَهرڅه نومعلومه شوه چه جزاسزاورکول بغیردَ ظلم نه اوحساب کول دا هم ثابت دی۔

[۱۸] دا نورهیبت شان دَ قیامت ذکرکوی په څلوروطریقوسره ﴿مَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ حَمِيْمٍ﴾ حمیم هغه دوست ته وئیلے کیږی چه دَ دوست دَتکلیف په وخت کښ په دهٔ باندے ګرموالے اوخوټکیدل راځی یعنی ګرم دوست اومراد ترینه نفع ورکول دی ځکه حمیم به وینی لکه سورة معارج(۱۰،۱۱)کښ لیکن نفع به نشی ورکولے ﴿وَلَا شَفِيْعٍ يُّطَاعُ﴾ دلته نفی دَ قید اومقید دَ دواړوده یعنی سفارشی نیشته نوخبره به ئے څه رنګ اومنلے شی اودا ایت په باره دَ مشرکانواوکافرانوکښ دے دَ نوروګناهګارانو مؤمنانو دَپاره سفارش کیدے شی او فائده به رسوی۔

لَا يَقْضُوْنَ بِشَيْءٍ ۭ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ السَّمِيْعُ الْبَصِيْرُ ۲۰ اَوَلَمْ يَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ فَيَنْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ
الَّذِيْنَ كَانُوْا مِنْ قَبْلِهِمْ ۭ كَانُوْا هُمْ اَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً وَّاٰثَارًا فِي الْاَرْضِ فَاَخَذَهُمُ اللّٰهُ بِذُنُوْبِهِمْ ۭ وَمَا كَانَ
لَهُمْ مِّنَ اللّٰهِ مِنْ وَّاقٍ ۲۱ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ كَانَتْ تَّاْتِيْهِمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ فَكَفَرُوْا فَاَخَذَهُمُ اللّٰهُ ۭ اِنَّهٗ قَوِيٌّ
شَدِيْدُ الْعِقَابِ ۲۲ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا مُوْسٰى بِاٰيٰتِنَا وَسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ۲۳ اِلٰى فِرْعَوْنَ وَهَامٰنَ وَقَارُوْنَ فَقَالُوْا
سٰحِرٌ كَذَّابٌ ۲۴ فَلَمَّا جَاۗءَهُمْ بِالْحَقِّ مِنْ عِنْدِنَا قَالُوا اقْتُلُوْٓا اَبْنَاۗءَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ وَاسْتَحْيُوْا نِسَاۗءَهُمْ ۭ

نشی پوره کولے هیڅ څیز یقیناً الله تعالیٰ هرڅه اوری هر څه وینی (۲۰) ایا دوی نه ګرځی په ملك کښ نو چه اوګوری چه څه رنګ وؤ انجام دَ هغه کسانو چه وؤ دوی نه مخکښ وؤ هغوی ډیر سخت دَ دوی نه په قوت کښ او ډیرو نښووالا وؤ په ملك کښ نو اونیول هغوی لره الله تعالیٰ په سبب دَ ګناهونو دَ هغوی او نیشته دوی لره دَ الله تعالیٰ نه هیڅ بچ کوؤنکے (۲۱) دا په دے وجه چه یقیناً راتلل به دوی ته رسولان په ښکاره حکمونو نو دوی به انکار کوؤ نو اونیول دوی لره الله تعالیٰ یقیناً الله تعالیٰ قوت والا دے سخت عذاب ورکوؤنکے دے (۲۲) او یقیناً لیږلے وؤ موټر موسیٰ(علیه السلام) په معجزاتو زمونږ سره اودلیل ښکاره(۲۳) فرعون ته او هامان او قارون ته نو دوی اُوئیل چه دا جادوګر ډیر دروغژن دے(۲٤) نو هر کله چه راوړو دوی ته حق زمونږ دَ نیز نه نو دوی اُوئیل قتل کوئے ځامن دَ هغه چا چه ایمان ئے راوړے وؤ دَ دهٔ په ملګر تیا کښ او حیا واخلے دَ زنانو دَ دوی نه

[۱۹] ﴿خَآئِنَةَ الْاَعْيُنِ﴾ یعنی هغه خصلت دَ نقصان اوخیانت چه ستړګونه صادریږی۔ دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے چه یوسړے دَ یوقوم سره په مجلس کښ ناست وی او پردئے زنانه ورتیریږی او دے هغه زنانه ته په داسے طریقے سره نظراوکړی چه ملګری ورباندے پوهه نشی دیته خائنة الاعین وئیلے کیږی ۔ خَآئِنَةَ الاعین، پټ عمل دے دَ اندامونو او مَا تُخْفِي الصُّدُوْرُ، پټ عمل دَ زړونو دے۔

[۲۰] داهم صفت دَ الله تعالیٰ دے دَپاره دَتوحید ﴿وَالَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ﴾ دا رد دے په شرك فی الدعاء باندے یعنی سیوا دَ الله تعالیٰ نه ټول معبودان هیڅ حاجت نشی پوره کولے نومعلومه شوه چه دَ هغوی نه حاجتونه غوښتل اوحاجت رواکنړل بے فائدے کار اوظلم دے۔

[۲۱] دامتعلق دے دَ (٥) سره اوتخویف دنیوی دے منکرینودَ دعویٰ توحید ته اودَ "والذین یدعون من دونه لایقضون بشیءٍ" دپاره دلیل دے چه تیرشوی مشرکان هلاك کړے شویدی اودَ هغوی معبودانوهغوی لره بچ نه کړل ﴿اٰثَارًا فِي الْاَرْضِ﴾ دَ هغوی دَ مکانونو چتونه اودیوالونه دروازے منارے تراوسه پورے موجود دی لکه دَ ثمودیانو کهنډرات۔

[۲۲] دا تفصیل دَبذنوبهم دے یعنی لوئے ګناه دَ دوی په ګناهونو کښ انکاروؤدَ رسولانونه اودَ هغوی دَبیّناتونه په توحید باندے۔

[۲۳] دا دَ تخویف دنیوی مثال پیش کوی او دَ اَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً، نمونه ده۔

[۲٤] دَ دے دریو کسانوخاص ذکرئے اوکړوځکه چه دَ موسیٰ علیه السلام سره دَ دشمنئ سبب دَ فرعون

وَمَا كَيْدُ الْكٰفِرِيْنَ اِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ ﴿۲۵﴾ وَقَالَ فِرْعَوْنُ ذَرُوْنِيْٓ اَقْتُلْ مُوْسٰى وَلْيَدْعُ رَبَّهٗ ۚ اِنِّيْٓ اَخَافُ اَنْ
يُّبَدِّلَ دِيْنَكُمْ اَوْ اَنْ يُّظْهِرَ فِي الْاَرْضِ الْفَسَادَ ﴿۲۶﴾ وَقَالَ مُوْسٰٓى اِنِّيْ عُذْتُ بِرَبِّيْ وَرَبِّكُمْ مِّنْ كُلِّ مُتَكَبِّرٍ
لَّا يُؤْمِنُ بِيَوْمِ الْحِسَابِ ﴿۲۷﴾ وَقَالَ رَجُلٌ مُّؤْمِنٌ مِّنْ اٰلِ فِرْعَوْنَ يَكْتُمُ اِيْمَانَهٗٓ اَتَقْتُلُوْنَ رَجُلًا اَنْ ع ۳
يَّقُوْلَ رَبِّيَ اللّٰهُ وَقَدْ جَآءَكُمْ بِالْبَيِّنٰتِ مِنْ رَّبِّكُمْ ۭ وَاِنْ يَّكُ كَاذِبًا فَعَلَيْهِ كَذِبُهٗ ۚ وَاِنْ يَّكُ صَادِقًا

او نه دے چل ول دَ کافرانو مکر په بربادئ کښ دے (۲۵) او اُوئیل فرعون پریږدئے ما لره چه قتل کړم موسیٰ(علیه السلام) لره او مدد دے اوغواړی دَ رب خپل نه یقیناً ځه ویریګم چه بدل به کړی ستاسو دین یا به ښکاره کړی په ملك کښ فساد کول (۲۶) او اُوئیل موسیٰ(علیه السلام) یقیناً ما پناهی غوختلے ده په رب زما او په رب ستاسو دَ هر متکبر نه چه ایمان نه لری په ورځ دَ حساب (۲۷) او اُوئیل یو سړی مؤمن دَ کورنئے دَ فرعون نه ووژ پټووژ دهٔ ایمان خپل ایا قتل کوئے تاسو سړے چه وائي رب زما اللّٰه تعالیٰ دے او یقیناً راغلے دے تاسو ته په ښکاره حکمونو سره ستاسو دَ رب دَ طرف نه او که چرے دے دروغژن وی نو په دهٔ باندے دے وبال دَ دروغو دَ دهٔ او که چرے رشتینے وی دے

بادشاهی او دَ هامان وزارت او دَ قارون سرمایه داری وه او دا درے قوّتونه اکثر دَ حق په مقابله کښ اودریګی۔

[۲۵] دا امردَ قتل دَ دے دپاره دے چه خلق دَ دهٔ سره ملګرتیا اونکړی په دهٔ باندے ایمان رانوړی او دَ دے نه مخکښ امردَ قتل دَ دے دَپاره ووژ چه موسیٰ(علیه السلام) پیدانشی اودَ دے قتل ذکرسورة اعراف (۱۲۷) کښ دے اودَ اول قتل ذکرسورة بقره (۲۹) کښ دے ﴿وَمَا كَيْدُ الْكٰفِرِيْنَ﴾ داجواب دَسوال دے چه فرعونیانودَقتل کولومنصوبے جوړے کړے ایاپه دے سره خلق دَایمان قبلولونه بندشول؟ جواب اوشو چه دَ کافرانو منصوبے او چلونه دَ حق نه په رکاوټ جوړولو کښ همیشه بربادوی۔

[۲۶] سبب دَ دے هغه رعب دَ موسیٰ(علیه السلام) دے په فرعون باندے نوچامنع کړے نه دے لیکن هسے وائي چه ما پریږدئے چه دے قتل کړم ﴿وَلْيَدْعُ رَبَّهٗ﴾ داهم وهم دَ خلقو دفع کوی چه دَ موسیٰ دَ خیرو کولونه ځه نه ویریږم اوتاسوهم مه ویریږئے ﴿اِنِّيْٓ اَخَافُ﴾ فرعون ذکرکوی سبب دَ قتل دَ موسیٰ(علیه السلام) ځکه چه یودَ دوژ خطرونه شته چه یابه دے ستاسو عقیدے او دین خراب کړی اویا به کم ازکم ډله خپله جوړه کړی نوپه وطن کښ به جنګونه او فساد جوړ کړی نو اول فساد دَ دین دے او دویم فساد دَ دنیا دے۔

[۲۷] ﴿مِنْ كُلِّ مُتَكَبِّرٍ لَّا يُؤْمِنُ بِيَوْمِ الْحِسَابِ﴾ قاتل په ناحقه اوظالم هغه څوك دے چه دا دواړه صفتونه پکښ وی ځان لوے ګڼړی نودَچاحق خبره نه منی اوطبیعت ئے غواړی چه په لاندے خلقو باندے ظلم اوکړی لیکن بعض طبیعت دَ انسان ظلم کول غواړی لیکن دَقیامت دَ حساب نه یره کوی اوچه دَ حساب نه هم نه ویریږئے نو دا ډیرلوی ظالم وی۔

يُّصِبْكُمْ بَعْضُ الَّذِيْ يَعِدُكُمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِيْ مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ كَذَّابٌ ﴿۲۸﴾ يٰقَوْمِ لَكُمُ الْمُلْكُ الْيَوْمَ ظٰهِرِيْنَ فِي الْاَرْضِ ۡ فَمَنْ يَّنْصُرُنَا مِنْۢ بَاْسِ اللّٰهِ اِنْ جَاۗءَنَا ۭ قَالَ فِرْعَوْنُ مَآ اُرِيْكُمْ اِلَّا مَآ اَرٰى وَمَآ اَهْدِيْكُمْ اِلَّا سَبِيْلَ الرَّشَادِ ﴿۲۹﴾ وَقَالَ الَّذِيْٓ اٰمَنَ يٰقَوْمِ اِنِّىْٓ اَخَافُ عَلَيْكُمْ مِّثْلَ يَوْمِ الْاَحْزَابِ ﴿۳۰﴾ مِثْلَ دَاْبِ

نو اوبه رسی تاسوته بعض دَ هغه عذاب نه چه وعده کوی تاسو سره دے یقیناً اللّٰه تعالیٰ هدایت نه ورکوی هغه چاته چه هغه دَ حدنه تیروتونکے ډیر دروغژن وی (۲۸) اے قومه زما ستاسو دپاره بادشاهی ده نن زور آور ئے په دے ملك کښ نو څوك به مونږ سره مدد اوکړی دَ عذاب دَ اللّٰه تعالیٰ نه که چرے راشی مونږ ته اُوئیل فرعون څه رائیے نه درکوؤم تاسوته مګر هغه چه ما رائے درکړے ده اونه خائم څه تاسو ته مګر لار دَ کامیابیٔ (۲۹) او اُوئیل هغه کس چه ایمان ئیے راوړے وؤ اے قومه زما یقیناً ویره کوؤم په تاسو باندے پشان دَ ورځ دَ عنادیانو (۳۰) پشان دَ حال

[۲۸] دَ دے ایت نه دعوت دَ رجل مؤمن شروع دے هرکله چه موسیٰ علیه السلام په اللّٰه تعالیٰ سره پناهی اوغوختله نو اللّٰه تعالیٰ دَ هغه دَ امداد دپاره دا رجلِ مؤمن را اوچت کړو چه فرعون ئیے منع کوؤ دَ قتل دَ موسیٰ علیه السلام نه اوپه دے کښ تشجیع ده په دعوت باندے او ذکرد طریقے دَ دعوت دے او تسلّی ده اهل حق ته اوپه مکالمه دَرجل مؤمن کښ څلورحصے دی اوله حصه په دوه ایاتونو کښ ده په دے کښ ذکرکوی بیج کول دَموسیٰ علیه السلام دَ قتل کولونه په نرمه ناصحانه طریقے سره اواشاره کوی چه دَ بادشاهئی دَ غرورد وجے نه دَحق مقابله مهٔ کوئے تباه به شئے ﴿مِنْ اٰلِ فِرْعَوْنَ﴾ مفسرینو وئیلی دی چه دَ فرعون دَ ترهٔ څوئیے وو او دَ دے وجے نه فرعون ورته ډیرمهلت ورکړواودَ هغه بیان ئیے هم وا ؤریدوکه اسرائیلی وے نوفرعون داسے مهلت نه ورکوؤ ﴿يَكْتُمُ اِيْمَانَهٗٓ﴾ دا طریقه دَ دعوت ده چه په وخت دَا بتداء دَ دعوت کښ دا ضروری خبره نه ده چه داعی دِخپل مسلك خلقوته بنکاره کړی دَپاره دَ دے چه هغه خلق دَ ابتداء نه نفرت اونه کړی۔ او دا کتمان ګناه نه دے بلکه رخصت دے ځکه چه یو کتمان دَ حق دے چه بیان دَ حق نه کوی اوبل کتمان دَ حال دے اوپه دے سره دَ هغه ایمان ته هیڅ نقصان نه دے رسیدلے دَ دے وجے نه اللّٰه تعالیٰ ورته مؤمن صفت وئیلے دے اوروستوهغه ایمان بنکاره کړے دے ﴿بَعْضُ الَّذِيْ يَعِدُكُمْ﴾ مراد ترینه عذاب دَ دنیا دے لکه چه سورة طٰه (۴۸) کښ ذکردی اوباقی عذاب به په آخرت کښ وی ﴿اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِيْ مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ﴾ جواب سوال دے چه ایا په دے بیان سره فرعونیانوته څه فائده اورسیدله نو جواب اوشو چه مسرف کذاب ته فائده نه رسیږی دَ مسرف نه مشرك مراد دے او کَذّاب، په دعویٰ دَ ربوبیت کښ دے اودا اوصاف دَ فرعون وؤ۔

[۲۹] په دے ایت کښ تزهید فی الدنیا دے سرهٔ دَ تخویف نه چه دَ بادشاهئی او دَ زورآورئے په سبب دَ عذاب دَ اللّٰه تعالیٰ نه بچ کیدلے نشی ﴿قَالَ فِرْعَوْنُ﴾ هرکله چه فرعون اویریدلو چه دَ دے سړی په بیان سره په خلقوباندے اثرپریوځی نوپه هغه قوم باندے تلبیس اچوی چه څه ستاسوخیرخواه اومرشدیم زما رائیے باندے عمل کوئے ﴿مَآ اُرِيْكُمْ اِلَّا مَآ اَرٰى﴾ دا ماخوذ دے دَ رائ نه مراد دَ دے نه قتل کول دَ موسیٰ علیه السلام دی ﴿سَبِيْلَ الرَّشَادِ﴾ یعنی دَ موسیٰ علیه السلام نه انکار کول او زما په دین باندے مضبوط پاتے کیدل دا هدایت اورشد دے او

قَوْمِ نُوْحٍ وَّعَادٍ وَّثَمُوْدَ وَالَّذِيْنَ مِنْ بَعْدِهِمْ ؕ وَمَا اللّٰهُ يُرِيْدُ ظُلْمًا لِّلْعِبَادِ ﴿۳۱﴾ وَيٰقَوْمِ اِنِّيْٓ اَخَافُ عَلَيْكُمْ
يَوْمَ التَّنَادِ ﴿۳۲﴾ يَوْمَ تُوَلُّوْنَ مُدْبِرِيْنَ ۚ مَا لَكُمْ مِّنَ اللّٰهِ مِنْ عَاصِمٍ ۚ وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ هَادٍ ﴿۳۳﴾
وَلَقَدْ جَآءَكُمْ يُوْسُفُ مِنْ قَبْلُ بِالْبَيِّنٰتِ فَمَا زِلْتُمْ فِيْ شَكٍّ مِّمَّا جَآءَكُمْ بِهٖ ؕ حَتّٰٓى اِذَا هَلَكَ قُلْتُمْ لَنْ
يَّبْعَثَ اللّٰهُ مِنْۢ بَعْدِهٖ رَسُوْلًا ؕ كَذٰلِكَ يُضِلُّ اللّٰهُ مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ مُّرْتَابُ ۖ ﴿۳۴﴾ الَّذِيْنَ يُجَادِلُوْنَ فِيْٓ

د قوم د نوح(علیه السلام) او دَعادیانو او ثمودیانو او د هغه کسانو چه د دوی نه روستو ووُ او نه غواړی الله تعالی هیڅ ظلم کول په بندګانو باندے (۳۱) او اے قومه یقیناً ځه ویریګم په تاسو باندے د ورځ د چغووهلونه (۳۲) هغه ورځ چه اوبه ګرځئ تاسو شا کوؤنکی نه به وی تاسو لره د الله تعالی نه هیڅوك بچ کوؤنکے او هغه څوك چه بے لارے کړی الله تعالی هغه لره نو نیشته هغه لره هیڅ هدایت ورکوؤنکے (۳۳) او یقیناً راغلے وؤ تاسو ته یوسف(علیه السلام) د دے نه مخکښ په ښکاره حکمونو سره نو همیشه وئے تاسو په شك کښ دَهغے نه چه راوړے وؤ تاسوته ترهغے پورے چه کله مړ شو نو تاسو اُوئیل هیڅرے به را اونه لیږی الله تعالی د دهٔ نه روستو هیڅ رسول دغه شان بے لارے کوی الله تعالی هغه چا لره چه حد نه تیریږی او پوخ شك کوؤنکے وی (۳۴) هغه کسان چه جګړے کوی په

دغسے باطل پرستان خپلو باطلو طریقوته د رشد او هدایت په نظرسره ګوری۔

[۳۰] د دے ایت نه دَمکالمے د رجلِ مؤمن دویمه حصّه ده تر(۳۵) پورے په دے کښ تخویف دنیوی او اُخروی ذکرکوی اودلیل نقلی دَیوسف علیه السلام نه او زجر په صفاتو قبیحوباندے ذکرکوی ﴿مِثْلَ يَوْمِ الْاَحْزَابِ﴾ هغه قومونه چه تحزب او ډله بازی ئے کوله په مقابله د رسولانو کښ د هغوی د عذابونو پشان۔

[۳۱] دا تفصیل دے اجمال دے لفظ د اُبِ، کښ اشاره ده چه د هغوی کفراوتکذیب اود هغے په سبب سره عذاب راتلل د ټولوعادت اوحالتِ مستمره دے ﴿وَمَا اللّٰهُ يُرِيْدُ ظُلْمًا لِّلْعِبَادِ﴾ دا جواب سوال دے که څوك اُوائي چه دا قومونه هلاکول ایا ظلم نه دے؟ جواب اوشو په دے جملے سره یعنی بغیرد حجت نه اوبغیرد ګناه نه عذاب نه ورکوی۔

[۳۲،۳۳] په دے کښ تخویف اخروی ذکرکوی ﴿يَوْمَ التَّنَادِ﴾ دا نوم د ورځ د قیامت په دے وجے سره دے چه په دغه ورځ کښ به ډیرے نداګانے وی ۔نداګانے د جنّت والو جهنمیانوته او برعکس او آوازونه د اعراف والو دواړو طرفونونه او ندا د ملائکو جنتیانوته او آوازونه هرچاته د هغوی د امام په نوم باندے اوفریادونه کول د کافرانو اوظالمانو اونداء د الله تعالی پیریانواو انسانانوته وغیره۔

[۳۴] دا دلیل نقلی دے د یوسف علیه السلام نه اودے ئے د دے وجے نه خاص کړو چه په مصرکښ دے مشهور پیغمبر رالیږلے شوے وؤاودارنګ دا روستنئے جملے مثال ذکرکوی (چه الله تعالی چالره بے لارے کړی نوڅوك ئے په لارے کولے نشی) ﴿بِالْبَيِّنٰتِ﴾ مراد ترینه هغه توحید تفصیلی دے چه په سورۃ یوسف ۳۹، ۴۰ کښ ذکردے۔ داخطاب په اصل کښ د دوی مشرانوته وؤ لیکن دوی (موجوده) دَپلارانو په لارے روان وو نودواړه په خطاب کښ یوشان اوګرځولے شول﴿لَنْ يَّبْعَثَ اللّٰهُ مِنْۢ بَعْدِهٖ رَسُوْلًا﴾ یعنی کلك شوئے تاسو په کفرباندے اوتاسو اُوئیل ښه ده چه د یوسف نه خلاص شو بل پیغمبربه بیانه راځی یا

اٰيٰتِ اللّٰهِ بِغَيْرِ سُلْطٰنٍ اَتٰىهُمْ ؕ كَبُرَ مَقْتًا عِنْدَ اللّٰهِ وَعِنْدَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ؕ كَذٰلِكَ يَطْبَعُ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ
قَلْبِ مُتَكَبِّرٍ جَبَّارٍ ﴿۳۵﴾ وَقَالَ فِرْعَوْنُ يٰهَامٰنُ ابْنِ لِيْ صَرْحًا لَّعَلِّيْٓ اَبْلُغُ الْاَسْبَابَ ﴿۳۶﴾ اَسْبَابَ السَّمٰوٰتِ
فَاَطَّلِعَ اِلٰٓى اِلٰهِ مُوْسٰى وَاِنِّيْ لَاَظُنُّهٗ كَاذِبًا ؕ وَكَذٰلِكَ زُيِّنَ لِفِرْعَوْنَ سُوْٓءُ عَمَلِهٖ وَصُدَّ عَنِ السَّبِيْلِ ؕ
وَمَا كَيْدُ فِرْعَوْنَ اِلَّا فِيْ تَبَابٍ ﴿۳۷﴾ وَقَالَ الَّذِيْٓ اٰمَنَ يٰقَوْمِ اتَّبِعُوْنِ اَهْدِكُمْ سَبِيْلَ الرَّشَادِ ﴿۳۸﴾ يٰقَوْمِ اِنَّمَا ع ۴

ایاتونو دَ اللّٰه تعالیٰ کښ بغیرد دلیل نه چه راغلے وی دوی ته ډیره غټه ده دا جګړه په نیز دَ اللّٰه تعالیٰ او په نیز دَ مؤمنانو د غه شان مهروهی اللّٰه تعالیٰ په ټول زړه دَ تکبر کوؤنکی زور ښکاره کوؤنکی (۳۵) او اُوئیل فرعون اے هامانه جوړه کړه ماله دنګه ښګله دپاره دَ دے چه اورسم دروازو ته (۳۶) دروازو دَ اسمانونو ته نو ور ښکاره به شم اِلٰه دَ موسیٰ(علیه السلام) ته او یقیناً ځه ګمان کوؤم په دۀ باندے دَ دروغژن او دغه شان خائسته کړے شویدے فرعون ته ناکاره عمل دَ دۀ او بندکړے شویوؤ دَ حق لارے نه او نه وؤ چل ول دَ فرعون مګر په تباهئ کښ وؤ (۳۷) او اُوئیل هغه کس چه ایمان ئے راوړے وؤ اے زما قومه تابع شئے زما اوبه خائم تاسو ته لار دَ کامیابئ (۳۸) اے قومه زما یقیناً

مراد دا دے چه هرکله یوسف علیه السلام وفات شواونظام دَ مصر ګډوډ شونوتاسوارمان اوکړوچه ارمان دے داسے رسول به بیارانشی اشاره ده چه اوس دَ موسیٰ علیه السلام نه انکارکوئے لیکن بیا به وروسته ارمانونه کوئے۔

[۳۵] دا ترقی ده دَ دوی په ګمراهئ کښ چه اول شك وی بیا ارتیاب شی بیا ګمراهی شی نووروسته جدال کول شی په حق کښ ﴿عَلٰى كُلِّ قَلْبِ﴾ کل ئے مقدم ذکرکړے دے اشاره ده چه دَهر متکبر په زړه باندے مهرنه وهی لیکن هرکله چه دَ بعض متکبرپه زړه مهرلګوی نو دا مهراحاطه اوکړی دَ هغه په زړه باندے ټول زړه ئے بندکړی ﴿مُتَكَبِّرٍ جَبَّارٍ﴾ اول په حقوق اللّٰه کښ دے اودویم په حقوق العبادکښ دے۔

[۳۶] دا جواب دے دَ فرعون نه په طریقه دَ تلبیس سره دپاره دَ دے چه دَخلقوپه زړونوکښ کلام دَ رجلِ مؤمن اثراونه کړی یعنی خلقوته داښکاره کوی چه په زمکه کښ خو اِلٰه ځه یم اودَ موسیٰ علیه السلام الٰه که چرے وی نو په آسمانونو کښ به وی نو دَ هغے دَ مقابلے دَپاره دَ اسباب جوړولو حکم ئے هامان ته اوکړو۔

[۳۷] اودا قول دَفرعون په دے عقیده باندے بنادے چه اللّٰه تعالیٰ یوجسم دے اوپه اوچت مکان باندے ناست دے لکه دَ دنیا دَ بادشاهانوپشان اودَ هغه سره مقابله کیدے شی اودا عقیده هم کفردے ﴿وَاِنِّيْ لَاَظُنُّهٗ كَاذِبًا﴾ دا لفظ دَ تلبیس دپاره دے یعنی محل جوړول او آسمانونوته ختل او الٰه معلومول چه ضروری خبره نه وه ځکه چه غالب ګمان یا یقین دا دے چه موسیٰ علیه السلام په دعویٰ دَ اِلٰه کښ اوپه دعویٰ دَ رسالت کښ دروغژن دے ﴿وَمَا كَيْدُ فِرْعَوْنَ اِلَّا فِيْ تَبَابٍ﴾ دا جواب سوال دے چه ایاپه دے مکردَ فرعون سره څه کامیابی حاصله شوه نو جواب اوشوحاصل دَ جواب دا دے چه دا صرح ئے جوړکړے نه دے یا ئے جوړ کړو او دَ مال او دَ وخت تاوان ئے اوشو لیکن اللّٰه تعالیٰ هغه محل تباه کړو اوفرعون او دَ هغه قوم ئے غرق کړو۔

[۳۸] دا دریمه حصّه ده دَ مکالمے دَ رجلِ مؤمن تر(۴۰) پورے په دے کښ دعوت ورکوی خپلے اتباع ته اوتزهید فی الدنیا اوبشارت اخرویه ذکرکوی ﴿اَهْدِكُمْ سَبِيْلَ الرَّشَادِ﴾ داپه مقابله دَ قول دَ فرعون کښ

هٰذِهِ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا مَتَاعٌ ۫ وَّاِنَّ الْاٰخِرَةَ هِيَ دَارُ الْقَرَارِ ﴿۳۹﴾ مَنْ عَمِلَ سَيِّئَةً فَلَا يُجْزٰٓى اِلَّا مِثْلَهَا ۚ
وَمَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَاُولٰٓئِكَ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ يُرْزَقُوْنَ فِيْهَا بِغَيْرِ
حِسَابٍ ﴿۴۰﴾ وَيٰقَوْمِ مَا لِيْٓ اَدْعُوْكُمْ اِلَى النَّجٰوةِ وَتَدْعُوْنَنِيْٓ اِلَى النَّارِ ﴿۴۱﴾ تَدْعُوْنَنِيْ لِاَكْفُرَ بِاللّٰهِ وَ
اُشْرِكَ بِهٖ مَا لَيْسَ لِيْ بِهٖ عِلْمٌ ۫ وَّاَنَا اَدْعُوْكُمْ اِلَى الْعَزِيْزِ الْغَفَّارِ ﴿۴۲﴾ لَا جَرَمَ اَنَّمَا تَدْعُوْنَنِيْٓ اِلَيْهِ لَيْسَ
لَهٗ دَعْوَةٌ فِي الدُّنْيَا وَلَا فِي الْاٰخِرَةِ وَاَنَّ مَرَدَّنَآ اِلَى اللّٰهِ وَاَنَّ الْمُسْرِفِيْنَ هُمْ اَصْحٰبُ النَّارِ ﴿۴۳﴾

القصص

دا ژوند دنیوی لږه مزه ده او یقیناً اخرت هغه کور دَ همیشه ارام دے (۳۹) چاچه عمل کړیوی ناکاره نو بدله به نشي ورکیدے مګر دَ هغے پشان او چاچه عمل اوکړو موافق دَ سنت سره که نارینه دی او که زنانه دی او حال دا چه مؤحدوی نو دغه کسان به داخلیږی جنت ته روزی به ورکیدیشی په هغے کښ بے حسابه (۴۰) او اے زما قومه څه وجه ده ما لره (او تاسو لره) چه څه رابلم تاسو نجات ته او تاسوبلے ما لره اور ته (۴۱) تاسوبلے ما لره دے دپاره چه کفر اوکړم په اللّٰه تعالیٰ اوشریك کړم دَ هغه سره هغه څوك چه نیشته ما لره په شرکت دَ هغه باندے هیڅ دلیل او څه رابلم تاسو زورآور اوبخنه کوؤنکی ذات ته (۴۲) خامخا هغه څوك چه تاسو بلئے ما لره هغه ته نیشته دَ هغه په وس کښ دُعا قبلول په دُنیا کښ او نه په اخرت کښ او یقیناً واپسی زمونږ اللّٰه تعالیٰ ته ده او یقیناً مشرکان دی همیشه اوسیدونکی په اور کښ (۴۳)

دے چه په (۲۹) کښ تیرشو او په دے کښ تصریح اوکړه رجل مؤمن دَ خپل مسلك او دَ مقابلے کولو دَ فرعون سره۔

[۳۹] په دے کښ تزهید فی الدنیا اوترغیب الی الآخرة ذکرکوی یعنی دَ دنیا دَ اقتدار دَ پاره دَ پیغمبرمخالفت مه کوئے ﴿الْاٰخِرَةَ﴾ په معنیٰ دَ جنّت دے یا په معنیٰ دَورځ دَآخرت دے۔

[۴۰] په دے کښ اشاره ده چه آخرت مکان دَ جزاء او دَ بدلے دے اوتخویف اوبشارت ئے ذکرکړو۔

[۴۱] دَ دے ایت نه تر(۴۴) پورے دَ مکالمے دَ رجلِ مؤمن څلورمه حصّه ده اوپه دے کښ تفصیل دے دَ توحید اودَ شرك اوبیان دَ فرق دے دَ دواړو دعوتونو په مینځ کښ اومحاکمه کول دی۔ نو په دے ایت کښ غایة دَ توحید (نجات) اوغایة دَ شرك (اُور) ئے ذکرکړے دے، دَ جنّت نه ئے تعبیرپه نجات سره اوکړواشاره ده چه په جنّت کښ دَ هرغم اومصیبت اوتکلیف اوفناء وغیره چه دَ دنیا او صاف دی نجات حاصلیدل دی۔

[۴۲] دا تفسیردَ ماقبل دے۔ دَ النّار، نه مراد کفر اوشرك دے اودَ النّجاة، نه مراد توحید دَ عزیزغفار دے۔

[۴۳] دا صریح رد دے په شرك فی الدعاء باندے ﴿لَيْسَ لَهٗ دَعْوَةٌ﴾ زجاج معنیٰ کړے ده لیس له اجابة دعوة یعنی دوی دَ هیڅا حاجت اودعانشی قبلولے نه په دنیا اونه په آخرت کښ اودَ کلبی نه نقل دی چه دوی لره شفاعت نیشته (شفاعت قهریه) په دنیا او آخرت کښ دَ عبادت او دَ دعا حقدارنه دی۔

فَسَتَذْكُرُوْنَ مَآ اَقُوْلُ لَكُمْ ۭ وَاُفَوِّضُ اَمْرِيْٓ اِلَى اللّٰهِ ۭ اِنَّ اللّٰهَ بَصِيْرٌۢ بِالْعِبَادِ ﴿۴۴﴾ فَوَقٰىهُ اللّٰهُ سَيِّاٰتِ مَا مَكَرُوْا وَحَاقَ بِاٰلِ فِرْعَوْنَ سُوْۗءُ الْعَذَابِ ﴿۴۵﴾ اَلنَّارُ يُعْرَضُوْنَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَّعَشِيًّا ۚ وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ ۣ اَدْخِلُوْٓا اٰلَ فِرْعَوْنَ اَشَدَّ الْعَذَابِ ﴿۴۶﴾ وَاِذْ يَتَحَاۗجُّوْنَ فِي النَّارِ فَيَقُوْلُ الضُّعَفٰٓؤُا لِلَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْٓا اِنَّا كُنَّا لَكُمْ تَبَعًا فَهَلْ اَنْتُمْ مُّغْنُوْنَ عَنَّا نَصِيْبًا مِّنَ النَّارِ ﴿۴۷﴾ قَالَ الَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْٓا اِنَّا كُلٌّ

نو زر ده چه یاد به کړئے تاسو هغه چه ځه وایم تاسوته او سپارم خپل کار اللّٰه تعالیٰ ته یقیناً اللّٰه تعالیٰ لیدونکے دے دَ بندګانو خپلو (٤٤) نو بچ اوساتلو اللّٰه تعالیٰ هغه لره دَ بدو (اثارو) چلونو دَ هغوی نه او راګیر کړه فرعونیانو لره ناکاره عذاب (٤٥) اور پیش کیدیشی دوی په هغے باندے صبا او بیګا او په هغه ورځے چه قائم شی قیامت (اوبه وئیلے شی) داخل کړئے فرعونیان ډیر سخت عذاب ته (٤٦) او کله چه دوی به بحثونه کوی په اور کښ نو وائي به کمزوری هغه کسانو ته چه لوئي ئیے کړیده یقیناً مونږ ستاسو دپاره تابعدار وؤ نو ایا تاسو لرے کولے شئے زمونږ نه یوه برخه دَ اور (٤٧) اوبه وائي هغه کسان چه لوئي ئیے کړیده یقیناً مونږ ټول

[٤٤] دا خاتمه دَ بیان ده چه اوس زما دعوت نه منئ لیکن بیا به ارمان اوکړئیے په وخت دَ نزول عذاب کښ بیا تفویض اوتوکل علی اللّٰه دے۔

[٤٥] دا برکت دَ دعوت الی اللّٰه دے چه په هغه قوم باندے عذاب راغے اودے ترینه بچ شو ﴿سَيِّاٰتِ مَامَكَرُوْا﴾ مراد هغه عذابونه دی چه وخت په وخت په فرعونیانو باندے نازلیدل اوهغه په سورة اعراف کښ ذکر دی یا مراد ترینه غرق دے۔

[٤٦] ﴿غُدُوًّا وَّعَشِيًّا﴾ مراد دَ دے نه صبا اوبیګا دے دَ دنیا دَ ورځوپه حساب باندے یعنی په اورباندے پیشی به دا دوه وخته وی اوباقی اوقاتو کښ نور عذابونه دی یا دا کنایه ده دَ همیش والی نه۔ اوابن کثیرپه سند دَابن ابی حاتم سره حدیث نقل کړے دے چه ارواح دَ فرعونیانو دَ تورومارغانو په خیټو کښ دی اوصبا بیګاه په جهنم باندے پیش کیږی اودَ قتاده روایت دے چه داحال دَ روح دَهرکافردے اوحدیث دَبخاری اومسلم کښ په روایت دَ ابن عمر رضی اللّٰه عنهما سره وارد دی چه ټول اهلِ ناریاندے مقعد دَ هغه پیش کیږی صبا اوبیګاتر قیامته پورے۔

فائده: دَ دے ایت نه ډیرمفسرینو اومحدثینو اوعلماء دَ عقائدو استدلال کړے دے په دے خبره چه عذاب قبرحق دے او امام بخاری په ترجمة الباب دَ عذاب القبرکښ دا ایت کریمه ذکرکړے دے په دے باب کښ اوله ضروری خبره دا ده چه په احادیثو صحیحه کثیره کښ خولفظ دَعذاب القبر راغلے دے او عذاب فی القبرهم راغلے دے (انهما لیعذبان فی قبورهما،الحدیث) په دے باندے دلیل دے نودَ دے تعبیرنه انکارکول ګمراهی ده هاں تفصیلی کیفیت دَ هغے زمونږ دَ شعور اوعلم نه اوچت دے بعض هغه تفصیلات چه صحیح احادیثوکښ راغلی دی مثلاً سوال جواب کول او دَ هغے دَپاره کینول دَمړی اودَچا دپاره وسعت دَ قبراودَچا دَپاره تنګسیادَ قبردَ مرغوپه اجوافواوحوا صلوکښ دَ روح اچول وغیره دَدے منل ضروری دی۔

[٤٧] دا تخویف اخروی دے مرتب دے په واقعه دَ فرعونیانو لکه چه آل فرعون دَ فرعون تابعداری کړے

فِيهَآ ۚ اِنَّ اللّٰهَ قَدْ حَكَمَ بَيْنَ الْعِبَادِ ﴿۴۸﴾ وَقَالَ الَّذِيْنَ فِي النَّارِ لِخَزَنَةِ جَهَنَّمَ ادْعُوْا رَبَّكُمْ يُخَفِّفْ عَنَّا يَوْمًا
مِّنَ الْعَذَابِ ﴿۴۹﴾ قَالُوْٓا اَوَلَمْ تَكُ تَاْتِيْكُمْ رُسُلُكُمْ بِالْبَيِّنٰتِ ۭ قَالُوْا بَلٰى ۭ قَالُوْا فَادْعُوْا ۚ وَمَا دُعٰٓؤُا
الْكٰفِرِيْنَ اِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ ﴿۵۰﴾ اِنَّا لَنَنْصُرُ رُسُلَنَا وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ يَقُوْمُ الْاَشْهَادُ ﴿۵۱﴾ ع

په دے کښ پراته یو یقیناً اللّٰه تعالیٰ فیصله کړیده په مینځ د بندګانو کښ(۴۸) او اوبه وائي هغه کسان چه په اور کښ دی څوکیدارانو د جهنم ته دُعا اوغواړئ د رب خپل نه چه اسان کړی زمونږ نه یو ورځ د عذاب نه (۴۹)دوی به اُوائي ایا نه وؤ راغلی تاسو ته رسولان ستاسو په ښکاره دلیلونو سره دوی به اُوائی هاں ولے نه اوبه وائي ملائك نو دُعا ځان له اوغواړئ اونه ده دُعا د کافرانو مګربرباده ده (۵۰) یقیناً مونږ مدد کوؤ د رسولانو خپلو سره او د مؤمنانو سره په ژوند دُنیوی کښ او په هغه ورځ چه پیش به شی ګواهان (۵۱)

ده په کفر اوشرك کښ داسے هرهغه څوك چه د باطل پرستو ملایانو پیرانو اقتدارواله تابعداری کوی نو په جهنم کښ به دننه د دوی جګړه وی ﴿الضُّعَفٰٓؤُا﴾ مراد ترینه هغه خلق دی چه په علم اوعقل کښ کمزوری وی په بدن کښ کمزوری ترینه مرادنه ده۔

[۴۸] دا جواب دے د مستکبرینو په اظهار د عجز سره چه مونږځان نه شو خلاصولے نوتاسونه به څنګه عذاب دفع کړو۔

[۴۹] هرکله چه په کورنئی کښ دَیوبل د مدد نه امیده شی نو څوکیدارو(ملائکو) دَجهنم نه به طلب د دُعا اوکړی۔

[۵۰] دا جواب دے د ملائکود طرفه په تاکید سره په زورنه کښ ﴿وَمَا دُعٰٓؤُا الْكٰفِرِيْنَ اِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ﴾ مراد ترینه دُعاده په آخرت کښ چه هغه برباده ده نه قبلیږی۔ دنیاکښ دَد وی بعضے دعاګانے قبلیږی۔

[۵۱] د دے سورة دریم باب دے ترآخرد سورة پورے په دے کښ تسلّی ده ایمان والوته او امر دے په صبر اواستغفار اوتسبیح سره دَپاره د دعوت کوونکی۔ او امردے په استعاذه سره په وخت دَجدال د خلقو کښ بیا اثبات د قیامت دے په دوه دلیلونو سره ۔ بیا رد دے په شرك فی الدعاء باندے چه دعویٰ دَسورة ده اوپه هغے باندے تفصیلی اووه دلیلونه دی چه په هغے کښ تفصیل د نعمتونو د اللّٰه تعالیٰ دے چه مالك دَدے نعمتونو اللّٰه تعالیٰ دیے نو د بل چانه ولے حاجتونه غواړئے۔ بیا زجراوتخویف شدید مجادلینوته او دلیل نقلی اجمالی دے د انبیاء علیهم السلام نه او بیا درے عقلی دلیلونه دی اواختتام دے په تخویف دنیوی اوپه عدم قبولیت د توبے سره په وخت د عذاب کښ، په دے (۵۱) کښ تسلی ده په نصرت الٰهیه سره اودا نتیجه ده د ماقبل چه فرعونیان د دنیا اود آخرت په عذابونومبتلا شول اومؤمنان بنی اسرائیل اللّٰه تعالیٰ د عذاب نه بچ کړل اود دشمن په مقابله کښ ورسره مدد اوکړونوداحال د ټولومؤمنانودے ﴿الْاَشْهَادُ﴾ مراد د دے نه هغه شاهدان دی چه په جُدا جُدا ایاتونو کښ ذکرکړیدی۔ پیغمبران لکه سورة نساء (۴۱) مؤمنان لکه سورة بقره (۱۴۳) اندامونه لکه سورة یٰس(۶۵) اوسورة نور(۲۴) اوحم سجده (۲۰) ملائك لکه سورة ق:(۲۱)۔

يَوْمَ لَا يَنْفَعُ الظّٰلِمِيْنَ مَعْذِرَتُهُمْ وَلَهُمُ اللَّعْنَةُ وَلَهُمْ سُوْٓءُ الدَّارِ ﴿۵۲﴾ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْهُدٰى
وَاَوْرَثْنَا بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ الْكِتٰبَ ﴿۵۳﴾ هُدًى وَّذِكْرٰى لِاُولِي الْاَلْبَابِ ﴿۵۴﴾ فَاصْبِرْ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ
وَّاسْتَغْفِرْ لِذَنْۢبِكَ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ بِالْعَشِيِّ وَالْاِبْكَارِ ﴿۵۵﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ يُجَادِلُوْنَ فِيْٓ اٰيٰتِ اللّٰهِ بِغَيْرِ
سُلْطٰنٍ اَتٰىهُمْ ۙ اِنْ فِيْ صُدُوْرِهِمْ اِلَّا كِبْرٌ مَّا هُمْ بِبَالِغِيْهِ ۚ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ ۭ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيْعُ الْبَصِيْرُ ﴿۵۶﴾
لَخَلْقُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ اَكْبَرُ مِنْ خَلْقِ النَّاسِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۵۷﴾ وَمَا يَسْتَوِي الْاَعْمٰى

په هغه ورځ نفع به نه ورکوی ظالمانو ته بهانے دَ هغوی او دوی دپاره لعنت دے او دوی لره ناکاره کور دے (۵۲) او یقیناً ورکړے وؤ مونږموسیٰ(علیه السلام) ته هدایت او پاتے کړو مونږ په بنی اسرائیلو کښ کتاب (تورات)(۵۳) چه هدایت او نصیحت وؤ خالص عقل والو لره (۵۴) نو صبر کوه یقیناً وعده دَ اللّٰه تعالیٰ رشتیا ده او بخنه غواړه دپاره دَ خطائیے خپلے او پاکی وایه سره ستائِنے دَ رب ستا نه بیګا او صبا (۵۵) یقیناً هغه کسان چه جګړه کوی په ایاتونو دَ اللّٰه تعالیٰ کښ بغیر دَ دلیل نه چه دوی ته راغلے وی نیشته په سینو دَ دوی کښ مګر لوے حسد دے چه نه دی دوی رسیدونکی دَ هغے پوره کیدلو ته نو پناهی غواړه په اللّٰه تعالیٰ سره یقیناً هغه هرڅه اوری هر څه وینی (۵۶) خامخا پیدائش دَ اسمانونو او دَزمکے ډیر لوے دے دَ پیدائش دَ انسانانو نه لیکن ډیر دَ دے انسانانو نه نه پوهیږی (۵۷) او برابر نه دے ږوند

[۵۲] دَ مظلومانودَ بشارت نه روستودَ ظالمانوحال ذکرکوی۔

[۵۳،۵۴] داهم یونوع دَ نصرتِ الٰهیه او دارنګ دا سبب دے دَپاره دَ حصول دَنصرت الٰهیه او دا دلیل نقلی دے دَ کتاب دَ موسیٰ(علیه السلام) نه۔

[۵۵] دا تسلّی ده رسول اللّٰه(ﷺ) لره اوآداب ذکرکوی دپاره دَ داعی الی الحق اوپه دے ایت کښ درے آداب ذکردی (۱) صبر په مصیبتونو باندے (۲) استغفار (۳) تسبیح اوحمد۔

[۵۶] په دے ایت کښ څلورم ادب ذکرکوی یعنی استعاذه باللّٰه په وخت دَ جدل دَ مجادلینوکښ او زجردے هغوی ته او تسلّی ده چه مجادلین خپل مقصدته نشی رسیدلے ﴿اِنْ فِيْ صُدُوْرِهِمْ اِلَّا كِبْرٌ﴾ مراد دَ کبرنه امرکبیر(لوے مقصد) دے هغه په (۵)کښ تیرشویدے یعنی حق لره مغلوب کول اوحق پرستولره ختمول ﴿مَّا هُمْ بِبَالِغِيْهِ﴾ دوی دغه مقصد ته نشی رسیدلے یعنی دغه مقصد دَ دوی نه حاصلیږی یا مراد دَ کِبرنه تکبراو لوئی ده یعنی دَد وی په سینوکښ تکبردے دَ حق منلونه اونشی رسیدلے دوی مقتضیٰ دَ دے تکبرته اومقتضیٰ دَ تکبرحق لره ختمول دی۔

[۵۷] په دے ایت کښ زجردے په انکار دَبعث بعد الموت روستو دَ زجرنه په انکار دَ توحید باندے او اثبات دَ قیامت دے په دلیل اِنّی سره یعنی پیدائش دَ آسمانونو او زمکے دَ آثارو دَ قدرت دَ اللّٰه تعالیٰ دے خو دا دلیل دے په دے باندے چه اللّٰه تعالیٰ دَ خلقو په دوباره ژوند باندے قدرت لری نو دا استدلال دے دَ آثارونه او دے ته دلیل انی وئیلے کیږی۔

وَالْبَصِيْرُ ۙ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَلَا الْمُسِيْٓءُ ۭ قَلِيْلًا مَّا تَتَذَكَّرُوْنَ ﴿۵۸﴾ اِنَّ السَّاعَةَ لَاٰتِيَةٌ
لَّا رَيْبَ فِيْهَا وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۵۹﴾ وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُوْنِيْٓ اَسْتَجِبْ لَكُمْ ۭ اِنَّ الَّذِيْنَ
يَسْتَكْبِرُوْنَ عَنْ عِبَادَتِيْ سَيَدْخُلُوْنَ جَهَنَّمَ دٰخِرِيْنَ ﴿۶۰﴾ اَللّٰهُ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ الَّيْلَ لِتَسْكُنُوْا فِيْهِ وَالنَّهَارَ
مُبْصِرًا ۭ اِنَّ اللّٰهَ لَذُوْ فَضْلٍ عَلَي النَّاسِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَشْكُرُوْنَ ﴿۶۱﴾ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ خَالِقُ كُلِّ

او لیدونکے اوهغه کسان چه ایمان ئیے راوړے دے او عملونه ئیے کړی دی دَ سنت برابر او نه بدعمله ډیر لږ نصیحت اخلئے تاسو (۵۸) یقیناً قیامت خامخا راتلونکے دے هیڅ شك نیشته په هغے کښ لیکن ډیر دَ خلقو نه ایمان نه راوړی (۵۹) وئیلی دی رب ستاسو حاجتونه غواړئ زمانه ځه به پوره کوؤم حاجتونه ستاسو یقیناً هغه کسان چه لوئي کوی دَ دُعا زمانه زر ده داخل به شی جهنم ته ذلیلان به وی (۶۰) اللّٰه تعالیٰ هغه ذات دے چه جوړه کړے ده تاسو لره شپه (تیاره) چه ارام کوئے په هغے کښ او ورځ رنړا والا یقیناً اللّٰه تعالیٰ فضل والا دے په خلقو باندے لیکن ډیر دَ خلقو نه شکر نه کوی (۶۱) دغه ذات اللّٰه تعالیٰ دے رب ستاسو دے پیدا کوؤنکے دَ هر

[۵۸] داهم استدلال دے په اثبات دَ قیامت باندے په طریقه دَ دلیل لمّی سره یعنی فرق په مینځ دَ دے فریقینوپه دنیاکښ په عقیده او عملونو کښ دلیل دے په فرق کولو سره په جزا او سزا کښ او میدان دَ جزاء او سزا خوغیروی دَ میدان دَ عمل نه نو معلومه شوه چه قیامت حق دے۔

[۵۹] دا نتیجه دَ ما قبل دواړه دلیلونو ده۔

[۶۰] هرکله چه په قیامت کښ دَ نجات دپاره عقیده اوعمل دَ توحید ضروری دی نواوس په دے ایت کښ توحید فی الدعاء ته (چه دعویٰ دَ سورة ده) ترغیب ورکوی اودا دلیل وحی دے دَپاره دَ اثبات دَ دعوے ﴿اَسْتَجِبْ لَكُمْ﴾ هرکله چه مراد دُعانه شرعی دعا ده چه هغه مشروط ده په شرطونوپه نورو ایاتونو کښ اواحادیثو کښ اودَ هغے سره وعده دَ استجابت لازمه ده دَ دے وجے نه استجب سره ئیے قید ندے لګولے ﴿يَسْتَكْبِرُوْنَ﴾ استکبار په طریقه دَ مجادلے سره اوپه طریقه دَشرك کولو سره دے ﴿عَنْ عِبَادَتِيْ﴾ مراد دَ عبادت نه دعا ده په طریقه دَ توحید سره اوپه دے باندے دلالت کوی هغه حدیث صحیح چه الدعاء هو العبادة۔

[۶۱] مخکښ ایت کښ دعویٰ دَ توحید ذکرشوه نواوس دَهغے دَ اثبات دپاره عقلی دلیلونه ذکرکوی اوپه دے دلیلونو کښ غټ غټ نعمتونه ذکرکوی چه دَ دے پیداکوؤنکے اومالك صرف اللّٰه تعالیٰ دے نو دَ نورونه حاجات مه غواړئے۔ په دے دلیل کښ دوه غټ نعمتونه ذکردی۔ او اَلَّیلَ، ئیے مخکښ ذکرکړے دے ځکه چه دَمیاشتو په حساب کښ شپه مقدم وی په ورځ باندے او لفظ دَ الناس ئیے دوه کرته ذکرکړو دَ تاکید دَ زجر دَ پاره یا اول (الناس) کښ ټول انسانان مراد دی اودویم کښ اکثرمراد دی۔

شَيْءٍ ۖ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ فَاَنّٰى تُؤْفَكُوْنَ ﴿٦٢﴾ كَذٰلِكَ يُؤْفَكُ الَّذِيْنَ كَانُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ يَجْحَدُوْنَ ﴿٦٣﴾ اَللّٰهُ
الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ قَرَارًا وَّالسَّمَآءَ بِنَآءً وَّصَوَّرَكُمْ فَاَحْسَنَ صُوَرَكُمْ وَرَزَقَكُمْ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ ۭ
ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ ۚ فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٦٤﴾ هُوَ الْحَيُّ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ فَادْعُوْهُ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ۭ
اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٦٥﴾ قُلْ اِنِّىْ نُهِيْتُ اَنْ اَعْبُدَ الَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ لَمَّا جَآءَنِيَ الْبَيِّنٰتُ
مِنْ رَّبِّيْ ۡ وَاُمِرْتُ اَنْ اُسْلِمَ لِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٦٦﴾ هُوَ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ مِّنْ تُرَابٍ ثُمَّ مِنْ نُّطْفَةٍ ثُمَّ مِنْ

ځیز دے نیشته حقدار دَ بندګئے سیوا دَ هغه نه نو ځه رنګه اړولے شئے تاسو دَ حق نه (٦٢) دغه شان اړولے کیدل هغه کسان چه وؤ دَ ایاتونو دَ اللّٰه تعالیٰ انکار ئیے کوؤ (٦٣) اللّٰه تعالیٰ هغه ذات دے چه جوړه کړے ده تاسو لره زمکه دَ ارام دپاره او اسمان چت اوشکلونه ئیے درکړیدی تاسوته نو خائسته کړیدی شکلونه ستاسو او روزی ئیے درکړیده دَ پاك خوراکونو نه دغه اللّٰه تعالیٰ رب ستاسو دے نو برکتونو والا اللّٰه تعالیٰ دے چه رب دَ عالمینو دے (٦٤) اللّٰه تعالیٰ ژوندے دے همیشه، نیشته حق دار دَبلے سیوا دَ هغه نه نو بلئے هغه لره چه اخلاص کوونکی ئے هغه لره دَبلے صفتونه دَ خدائیتوب خاص اللّٰه تعالیٰ لره دی چه رب دَ عالمینو دے (٦٥) ته اُوایه یقیناً ځه منع کړے شوے یم چه بندګی اوکړم دَ هغه کسانو چه تاسو ئیے بلے سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه هرکله چه راغلل ما ته بښکاره دلیلو نه دَ طرف دَ رب زما نه او حکم کړے شویدے ماته چه تابع اوسم رب دَ عالمینو لره (٦٦) خاص اللّٰه تعالیٰ هغه ذات دے چه پیدا کړی ئیے تاسو دَ خاورو نه بیا دَ نطفے نه بیا دَ

[٦٢] په دے کښ دلیل دے اونتیجه ده دَ مخکښ دلیل دَپاره هم۔ توحید دَ ربوبیّت او توحید دَ الوهیت دواړه ئیے په دے ایت کښ جمع کړی دی۔

[٦٣] په دے ایت کښ علت دَ آوړیدلوئیے ذکرکړو چه انکارد ایات اللّٰه دے اودا مشترك علت دے دَپاره دَمنکرینو۔

[٦٤] داهم دلیل دے اوپه دے کښ ځلور لوے لوے انعامات ذکرکوی هغه مخکښ انعامات زمانیه وو او دا انعامات مکانیه دی او دَ مکان سرهٔ ئیے ذکرد مکین (انسان) هم کړے دے نوپه دے ایت کښ افاقی علوی اوسفلی او انفسی نعمتونه ئیے دپاره دَ دلیلونوبیوځائے کړی دی ﴿فَتَبٰرَكَ﴾ دا تفریع ده په تیرشوی نعمتونو باندے اوبرکت په معنیٰ دَ ډیرو فائدوپیداکولو دے او فائدے وخت په وخت زیاته ولوته وئیلے کیږی او دَ دے تشریح مخکښ تیره شویده۔

[٦٥] داهم دلیل دے او توحید دَ الوهیت او توحید فی الدعاء ئیے سرهٔ دَ حمدنه په طور دَ نتیجے سره ذکرکړیدے۔

[٦٦] دا نتیجه دَ دلیلونو مخکنو ده یعنی دغه دلیلونه مستلزم دَ شرك نه دَ نهی دپاره او دَ توحید دَ امر دپاره دی او دارنګ دا جواب دے مشرکانوته هرکله چه هغوی دعوت ورکوی بندګئے دَ غیراللّٰه ته نو دا جواب به ئیے کیدیشی۔

عَلَقَةٍ ثُمَّ يُخْرِجُكُمْ طِفْلًا ثُمَّ لِتَبْلُغُوْٓا اَشُدَّكُمْ ثُمَّ لِتَكُوْنُوْا شُيُوْخًا ۚ وَمِنْكُمْ مَّنْ يُّتَوَفّٰى مِنْ قَبْلُ
وَلِتَبْلُغُوْٓا اَجَلًا مُّسَمًّى وَّلَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿۶۷﴾ هُوَ الَّذِيْ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ ۚ فَاِذَا قَضٰٓى اَمْرًا فَاِنَّمَا يَقُوْلُ لَهٗ
كُنْ فَيَكُوْنُ ﴿۶۸﴾ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ يُجَادِلُوْنَ فِيْٓ اٰيٰتِ اللّٰهِ ؕ اَنّٰى يُصْرَفُوْنَ ﴿۶۹﴾ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِالْكِتٰبِ
وَبِمَآ اَرْسَلْنَا بِهٖ رُسُلَنَا ۚ فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ ﴿۷۰﴾ اِذِ الْاَغْلٰلُ فِيْٓ اَعْنَاقِهِمْ وَالسَّلٰسِلُ ؕ يُسْحَبُوْنَ ﴿۷۱﴾ فِي
الْحَمِيْمِ ۙ ثُمَّ فِي النَّارِ يُسْجَرُوْنَ ﴿۷۲﴾ ثُمَّ قِيْلَ لَهُمْ اَيْنَ مَا كُنْتُمْ تُشْرِكُوْنَ ﴿۷۳﴾ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ قَالُوْا
ضَلُّوْا عَنَّا بَلْ لَّمْ نَكُنْ نَّدْعُوْا مِنْ قَبْلُ شَيْـًٔا ؕ كَذٰلِكَ يُضِلُّ اللّٰهُ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۷۴﴾ ذٰلِكُمْ بِمَا كُنْتُمْ

تکړے دَ وینے نه بیا را اوباسی تاسو واړه واړه بیا (پالی تاسو) چه او رسیږئ ځوانے خپلے ته بیا (عمر درکوی) دپاره دَ دے چه بوډا کیدل شئے او بعضے ستاسونه هغه دی چه مړه کړے شی مخکښ او (ساتی تاسو) د پاره دَ دے چه اورسئے تاسو نیټے مقررے ته او دے دپاره چه دَعقل نه کار واخلئے (٦٧) خاص اللّٰه تعالیٰ هغه ذات دے چه ژوندی کول او مړه کول کوی نو کله چه اراده اوکړی دَ یو کار نو یقیناً اُوائې هغے ته اوشه نو هغه اوشی (٦٨) ایا ته نه ګورے هغه کسانو ته چه جګړے کوی په ایاتونو دَ اللّٰه تعالیٰ کښ څه رنګ اړولے کیدیشی دَ حق نه (٦٩) دا هغه کسان دی چه تکذیب کوی دَکتابونو او دَ هغه خبرے چه رالیږلی دی مونږ په هغے سره رسولان زمونږ نو زر ده چه دوی به پوهه شی (٧٠) په هغه وخت چه طوقونه به په ستونو دَ دوی کښ وی او زنځیرونه (په خپو کښ وی) را ښکلے کیږی به (٧١) په ایشیدلو اوبو کښ بیا به په اور کښ رواته کړے شی (٧٢) بیا به اُوئیلے شی دوی ته کوم ځائے دی هغه کسان چه تاسو شریکول دَ اللّٰه تعالیٰ سره (٧٣) سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه دوی به اُوائې روك شو زمونږ نه بلکه نه دے راباللے مونږ دَ دے نه مخکښ هیڅ شیز دغه شان به خطا کوی اللّٰه تعالیٰ کافرانو لره (٧٤) دا په سبب دَ دے چه تاسو

[٦٧] دا هم دلیل دے مشتمل دے په مختلفوحالتونودَ انسان باندے په وخت دَابتدائی پیدائش کښ نو دیته دلیل انفسی وئیلے کیږی ﴿طِفْلًا﴾ جنس دے په معنیٰ دَ جمع سره او طفولیة تابعدارئے ته وئیلے کیږی نو ځوپورے چه بچے مور اوپلارته محتاج وی په خوراك او سکاك کښ اوپه جامه اغوستلو کښ نودیے تابع دے دَ مور اوپلار۔

[٦٨] داهم دلیل دے مخکښ خاص دَ انسانانو حیات او ممات ذکرشو او په دے کښ عام ذکرکوی۔

[٧٠،٦٩] دا بیا زجردے مجادلینوته یعنی دغه دلیلونه چه تیرشول په دے کښ جګړے کوی او خپل شرك ثابتوی او دَ دے مجادلینوحال ئے بیان کړے دے ﴿بِالْكِتٰبِ﴾ جنس کتابونه الٰهیه ترینه مراد دی یا صرف قرآن مراد دے ﴿وَبِمَآ اَرْسَلْنَا بِهٖ رُسُلَنَا﴾ مراد دَ دے نه مسئله دَ توحید ده چه هغه په سورة انبیاء (٢٥) اوسورة نحل (٣٦) کښ ذکر ده۔

[٧١نه تر٧٦] پورے په دے ایاتونو کښ تخویف اُخروی ذکرکوی دپاره دَ مجادلینو اودا تخویف مشتمل دے په لس امورو باندے ﴿وَالسَّلٰسِلُ﴾ دَ دے دوه معنے دی اوله معنیٰ سلاسل به هم دَ دوی په ستونو کښ

تَفْرَحُوْنَ فِي الْاَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَبِمَا كُنْتُمْ تَمْرَحُوْنَ ﴿۷۵﴾ اُدْخُلُوْٓا اَبْوَابَ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۚ
فَبِئْسَ مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِيْنَ ﴿۷۶﴾ فَاصْبِرْ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ ۚ فَاِمَّا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ الَّذِيْ نَعِدُهُمْ
اَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَاِلَيْنَا يُرْجَعُوْنَ ﴿۷۷﴾ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا رُسُلًا مِّنْ قَبْلِكَ مِنْهُمْ مَّنْ قَصَصْنَا عَلَيْكَ
وَمِنْهُمْ مَّنْ لَّمْ نَقْصُصْ عَلَيْكَ ۭ وَمَا كَانَ لِرَسُوْلٍ اَنْ يَّاْتِيَ بِاٰيَةٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ۚ فَاِذَا جَاۗءَ اَمْرُ
اللّٰهِ قُضِيَ بِالْحَقِّ وَخَسِرَ هُنَالِكَ الْمُبْطِلُوْنَ ﴿۷۸﴾ اَللّٰهُ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَنْعَامَ لِتَرْكَبُوْا مِنْهَا وَ ع ۴۰

خوشحالی کوله په ملك کښ به غیر دَ حق ډلوئیے نه او په دے وجه چه تاسو لوئی کوله (۷۵) دا خل شئے دروازو دَ جهنم ته همیشه به ئیے په هغے کښ نو ناکاره دے ځائے دَ اوسیدلو دَ لوئیے کوؤنکو (۷۶) نو صبر کوه یقیناً وعده دَ اللّٰه تعالیٰ حقه ده نو یا به اوخایو مونږ تاته بعضے هغه عذاب چه وعده کوؤ مونږ دَ دوی سره یابه وفات کړو تا نو مونږ ته به دوی راګرځی (۷۷) او یقیناً لیږلی دی مونږ رسولان مخکښ ستانه بعضے دَ دوی هغه څوك دی چه بیان کړیدی مونږ په تاباندے او بعضے هغه دی چه نه دی بیان کړی مونږ په تا باندے او نیشته په اختیار دَ رسول کښ چه راوړی هیڅ معجزه مګر په حکم دَ اللّٰه تعالیٰ هغه وخت چه راشی حکم دَ اللّٰه تعالیٰ فیصله به اوکړیشی په حقه سره اوښکاره شو دغه وخت تاوان دَ باطل پرستو خلقو (۷۸) اللّٰه تعالیٰ هغه ذات دے چه پیدا کړیدی تاسو لره څاروی دَ دے دپاره چه سورلی کوئے په بعضو دَ هغے نه او

وی، دویمه معنیٰ دا ده سلاسل به دَ دوی په خپو کښ واچولے شی ﴿ثُمَّ فِي النَّارِ يُسْجَرُوْنَ﴾ یعنی په شان دَ خشاك به په دوی سره اور توده ولے شی یا معنیٰ دا چه روتولے به شی په اور کښ یا په معنیٰ دَ ډکولو سره دے یعنی ډکولے به شی په دوی سره اوردَ جهنم ﴿ثُمَّ قِيْلَ لَهُمْ﴾ دا تپوس دپاره دَ سخت زجر دے هغه چاته چه په دنیا کښ شرك فی الدعاء ئیے کړے وؤ ﴿اَيْنَ مَا كُنْتُمْ تُشْرِكُوْنَ، مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ﴾ یعنی کوم ځائے دی چه آوازکړئے ورته چه تاسودَ دے عذاب نه بچ کړی نودوی به اول جواب اوکړی ﴿ضَلُّوْا عَنَّا﴾ روك شول زمونږنه اودا جمله مستلزم ده دَ دوی اقرارکولولره په شرك دَ دوی باندے نوبیابه ئیے خیال راشی چه داخو مونږ بدکار اوکړو چه دَ ځان نه مواقرار اوکړونودویم جواب به اوکړی ﴿بَلْ لَّمْ نَكُنْ نَّدْعُوْا مِنْ قَبْلُ شَيْئًا﴾ یعنی انکار به اوکړی دَ شرك فی الدعاء نه لکه سورة انعام (۲۳) کښ تیرشویدی ﴿تَفْرَحُوْنَ﴾ فرق دَ فرح اومرح دا دے چه اول دَ زړه سره تعلق لری اودویم دَ ظاهرسره تعلق لری، اودویم قول دَ دے برعکس دے قرطبی دویم فرق ته اشاره کړے ده وئیلی دی په معنیٰ دَ تفرحون کښ مراد دا دے چه ښکاره کوله تاسو خوشحالی په ګناه کولو او په ډیرومالونواوډیرو نوکرانو اوپه صحت اوعافیت سره نوپه دے کښ عرسونه دَپیرانوهم داخل دی چه په شرك کولوسره خوشحالئے ښکاره کوی او تَمْرَحُوْنَ، دا دے چه په رفتار اوګرځیدلو کښ تکبر اولوئي کوی۔

[۷۷] هرکله چه حال دَ مجادلینو بیان شونو اوس تسلّی ورکوی نبی ﷺ ته په پنځوطریقو سره۔

[۷۸] داځلورمه تسلّی ده په ذکردَ تکالیفودَ انبیاؤسابقینوسره اشارةً اوپنځمه تسلّی جواب دَسوال

مِنْهَا تَاْكُلُوْنَ ﴿۷۹﴾ وَلَكُمْ فِيْهَا مَنَافِعُ وَلِتَبْلُغُوْا عَلَيْهَا حَاجَةً فِيْ صُدُوْرِكُمْ وَعَلَيْهَا وَعَلَى الْفُلْكِ
تُحْمَلُوْنَ ﴿۸۰﴾ وَيُرِيْكُمْ اٰيٰتِهٖ ۗ فَاَيَّ اٰيٰتِ اللّٰهِ تُنْكِرُوْنَ ﴿۸۱﴾ اَفَلَمْ يَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ فَيَنْظُرُوْا
كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۭ كَانُوْٓا اَكْثَرَ مِنْهُمْ وَاَشَدَّ قُوَّةً وَّاٰثَارًا فِي الْاَرْضِ فَمَآ اَغْنٰى
عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿۸۲﴾ فَلَمَّا جَاۗءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ فَرِحُوْا بِمَا عِنْدَهُمْ مِّنَ الْعِلْمِ
وَحَاقَ بِهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۸۳﴾ فَلَمَّا رَاَوْا بَاْسَنَا قَالُوْٓا اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَحْدَهٗ وَكَفَرْنَا بِمَا كُنَّا

بعضے دَ هغے نه تاسو خورئے (۷۹) او تاسو لره په هغے کښ فائدے دی او دَ دے دپاره چه اورسیږئے په هغے باندے سواره هغه حاجت ته چه په سینو ستاسو کښ دے او په هغے باندے او په کشتو باندے پورته کولے شئے تاسو (۸۰) او خائی تاسو ته دلیلونه خپل نو دَ کوم یو دَ دلیلونو دَ اللّٰه تعالیٰ نه تاسو انکار کوئے (۸۱) ایا نو دوی نه گرځی په ملك کښ چه اوگوری چه څه رنګ شو انجام دَ هغه کسانو چه دَ دوی نه مخکښ وؤ هغوی وؤ ډیر دَ دوی نه او زیات په قوت کښ او په نښو جوړولو سره په زمکه کښ نو دفع نه کړو دَ دوی نه (عذاب) هغه کارونو چه دوی کول (۸۲) نو هر کله چه راوړو دوی ته رسولانو دَ دوی ښکاره حکمونه نو لوئی اوکړه دوی په هغه علم چه دَ دوی سره وؤ او راګیر کړه دوی لره هغه څیز چه وؤ دوی په هغے پورے ټوقے کولے (۸۳) نو هر کله چه دوی اولیدو عذاب زمونږه اُوئیل دوی ایمان راوړے دے مونږ په اللّٰه تعالیٰ باندے په یووالی دَ هغه او انکار کوؤ مونږ دَ هغه معبودانو نه چه

دَمنکرینودے چه ته رسول ئیے نومونږته هغه معجزے راوړه کوم چه مونږطلب کوو جواب دا دے﴿وَمَا كَانَ لِرَسُوْلٍ﴾ اوهم داسے ذکرشویدی په سورة رعد(۳۸)اوسورة ابراهیم(۱۱)کښ اوپه دے ایت کښ دلیل نقلی اجمالی دے دَانبیاء علیهم السلام نه ﴿وَخَسِرَ هُنَالِكَ﴾ خسران دَ دوی په اصل کښ په وخت دَ ناکاره عملونوکښ وو لیکن په هغه وخت دوی ته خپل خسران نه ښکاره کیدلو او په وخت دَ عذاب کښ خسران ښکاره شو دَ دے وجے نه دَ هنالك تخصیص ئیے اوکړو۔

[۷۹، ۸۰، ۸۱] په دے ایاتونوکښ نور دلائل عقلیه په ذکرد نعمتونوسره ذکرکوی په اول ایت کښ ئیے دَځاروؤ نه دوه لوئے فائدے ذکرکړیدی چه سورلی او خوراك دے ۔ اودویم کښ ئیے درے نعمتونه ذکر کړل۔

[۸۲] مخکښ ایاتونوکښ ایات دَ نعمتونوذکرکړل نو اوس ایات دَ عذاب ذکرکوی اودا تخویف دنیوی دے ﴿وَاٰثَارًا فِي الْاَرْضِ﴾ اوچتے بنګلے او آبادئے کول په غرونوکښ اوپه دے کښ اشاره ده قوم فرعون ته چه په دے سورة کښ دَ هغوی حال تیرشوے دے۔

[۸۳] په دے کښ سبب دَعذاب ذکرکوی چه هغه تکذیب دَپیغمبرانودے ﴿فَرِحُوْا بِمَا عِنْدَهُمْ مِّنَ الْعِلْمِ﴾ دا ضمیرونه راجع دی کافرانوته اودَعلم نه مراد دنیوی علمونه دی لکه فلسفه، ریاضی، سائنس اوطب وغیره لکه چه بقراط یاسقراط حکیم ته وئیلے شوی ووچه ته موسیٰ علیه السلام ته ولے نه ورځے نو هغوی اوئیل چه مونږ مهذب قوم یو زمونږ دَ چاتهذیب او هدایت ته حاجت نیشته اودارنګه جالینوس حکیم

بِهٖ مُشْرِكِيْنَ ﴿۸۴﴾ فَلَمْ يَكُ يَنْفَعُهُمْ اِيْمَانُهُمْ لَمَّا رَاَوْا بَاْسَنَا ؕ سُنَّتَ اللّٰهِ الَّتِيْ قَدْ خَلَتْ فِيْ عِبَادِهٖ ۚ وَخَسِرَ هُنَالِكَ الْكٰفِرُوْنَ ﴿۸۵﴾

شریکان کړی موو ؤ دَ اللّٰه تعالیٰ سره (۸٤) نو نفع نه ورکوله دوی ته ایمان راوړلو دَ دوی کوم وخت چه اولیدلو دوی عذاب زمونږ پشان دَ طریقے دَ اللّٰه تعالیٰ هغه چه تیره شویده په بندګانو دَ هغه کښ او تاوان ښکاره شو په دغه وخت دَ کافرانو (۸۵)

عیسیٰ علیه السلام ته وئیلی ووچه ته مونږته نه ئیے رالیږلے شوے مونږ خوستانه ښه پوهیږو یا دَ علم نه مراد دَ دوی شبهات کفریه اوشرکیه او بدعیه دی چه دوی ګمان کړے وؤچه داعلم دے لکه استدلال دَ دوی په اتباع دَ اباؤ خپلوسره یا په دے قول سره چه لوشاء اللّٰه ما اشرکنا یا په دے قول سره چه من یحی العظام وهی رمیم وغیره۔ او دا آیت دلیل دے په دے چه چاته قرآن او صحیح حدیث پیش کړے شی او دَ هغے په مقابله کښ نورکتابونه او دلیلونه پیش کوی یا په خپل تقلید باندے کلك وی نو دغه سړے دَ مخکنو باطل پرستو په طریقه باندے روان دے۔

[۸٤] هرکله چه کفارپوهه شول په وخت دَ عذاب کښ چه بل هیڅ ځیز فائده نشی ورکولے بلکه معبودان دَ دوی هم نجات نشی ورکولے نو دوی په دغه وخت کښ ایمان په توحید باندے راؤړو لکه چه فرعون دا سے کار کړے وؤ۔

[۸۵] دا ایمان اضطراری مجبوری دے دا قبول نه دے۔

سُوْرَةُ حٰمٓ السَّجْدَة (٤١) مَكِّيَّةٌ (٦١) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ٥٤ رُكُوْعَاتُهَا ٦

حٰمٓ ﴿١﴾ تَنْزِيْلٌ مِّنَ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ﴿٢﴾ كِتٰبٌ فُصِّلَتْ اٰيٰتُهٗ قُرْاٰنًا عَرَبِيًّا لِّقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ﴿٣﴾ بَشِيْرًا وَّ نَذِيْرًا ۚ فَاَعْرَضَ اَكْثَرُهُمْ فَهُمْ لَا يَسْمَعُوْنَ ﴿٤﴾ وَ قَالُوْا قُلُوْبُنَا فِيْٓ اَكِنَّةٍ مِّمَّا تَدْعُوْنَآ اِلَيْهِ وَ فِيْٓ اٰذَانِنَا وَقْرٌ وَّ مِنْۢ بَيْنِنَا وَ بَيْنِكَ حِجَابٌ فَاعْمَلْ اِنَّنَا عٰمِلُوْنَ ﴿٥﴾ قُلْ اِنَّمَآ اَنَا

القافية

حامیم (۱) نازلول دی دَ طرف ډلوے مهربان رحم کوؤنکی نه (۲) کتاب دے جدا جدا بیان شویدی ایتونه دَ دهٔ قرآن دے عربی ژبے والا دپاره دَ هغه قوم چه پوهیږی (۳) زیږے ورکوؤنکے او ویره ورکوؤنکے نو مخ اوګرځوؤ ډیرو خلقو نو دوی نه اوری (٤) او دوی وائي زړونه زمونږ په پردو کښ دی دَهغے نه چه ته مونږ بلے هغے ته او په غوږونو زمونږ کښ درونوالے دے او په مینځ زمونږ او په مینځ ستا کښ پرده ده نو ته خپل کار کوه یقیناً مونږ خپل کار کوؤ (٥) ته اُوایه یقیناً ځه

سورة حٰمٓ السجدة

اودَ دے نورنومونه دا دی: فصلت، المصابیح، الاقوات، سجدة المؤمن۔

ربط: دَ دے سورة دَ مخکښ سورة سره په ډیروطریقوسره دے اوله طریقه دا ده چه په تیرشوی سورة کښ رد دَ شرك فی الدعاء وؤ نو په دے سورة کښ دفع دَ درے اوهامو دَ منکرینوده، دویمه داچه په سورة مؤمن کښ نهه صفتونه دَ نازلوؤنکی دَ قرآن وو چه اللّٰه تعالیٰ دے نوپه دے سورة کښ نهه احوال دَ منزَّل(قرآن) دی۔ دریمه طریقه داچه هلته دَ تخویف دُنیوی یوه نمونه وه نو په دے سورة کښ دوه نمونے ذکر کوی۔

دعویٰ دَ دے سورة: اثبات دَ توحید دے په دفع دَ درے شبهاتو سره۔ او په اته عقلی دلیلونو سره اوپه رد دَ اقساموDَ شرك سره (شرك فی العبادت اوفی الدعاء او فی العلم) اوپنځلس اسماء الٰهیوسره۔ اوپه ډیر زجرونو او تخویف دنیویو او اُخرویوسره۔

خلاصه دَ سورة: دا ده چه دا سورة تقسیم دے درے بابونوته۔ اول باب تر(٢٤) پورے دے په دے کښ اول ترغیب دے قرآن ته په ذکرDَ نهه حالاتوDَ قرآن او زجردے په اعراض دَ قرآن سره بیا شبهه دَ منکرینو ده او جواب دَ هغے دے بیا ځلور عقلی دلیلونه دی بیا تخویف دنیوی په ذکر دَعاد اودَ ثمود سره او تخویف اُخروی تفصیلی دے۔

تفسیر

[١] دا نوم دَ قرآن یا نوم دَ سورة دے یا دپاره دَ اعجاز دے۔

[٢،٣،٤] دا ترغیب دے په ذکرکولودَ نهه احوالودَ قرآن ﴿فَاَعْرَضَ﴾ دا زجردے ﴿فَهُمْ لَا يَسْمَعُوْنَ﴾ دا تفسیر دَ اعراض دے یا معنیٰ داچه اعراض کوی دَ توحید نه نو قرآن دَدے وجے نه نه آوری۔

[٥] دا سبب دَ اعراض ذکرکوی او دا اوله شبهه ده دَ منکرینوحاصلِ شبهه دا دے چه ستا دا مسائل زمونږ دَ پوهے نه اوچت دی نو مونږ ته دا بیان مه کوه ﴿وَقْرٌ﴾ کنایه ده دَهغه قصو دَ مشرکانو او مبتدعینونه

بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُوْحٰٓى اِلَيَّ اَنَّمَآ اِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ فَاسْتَقِيْمُوْٓا اِلَيْهِ وَاسْتَغْفِرُوْهُ ۭ وَوَيْلٌ لِّلْمُشْرِكِيْنَ ۝ۙ
الَّذِيْنَ لَا يُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ هُمْ كٰفِرُوْنَ ۝ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ
لَهُمْ اَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُوْنٍ ۝ قُلْ اَىِٕنَّكُمْ لَتَكْفُرُوْنَ بِالَّذِيْ خَلَقَ الْاَرْضَ فِيْ يَوْمَيْنِ وَتَجْعَلُوْنَ لَهٗٓ ع

بشریم ستاسو پشان وحی کیدے شی ماته چه یقیناً حقدار دَ بندګئے ستاسو یو ذات دے نو برابر شئے دَ هغه طرف ته او بخنه غواړئے دَ هغه نه او تبا هی ده مشرکانو لره (٦) هغه کسان چه نه ورکوی زکوٰة او دوی دَ اخرت نه انکار کوؤنکی دی (٧) یقیناً هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے او عملونه ئے کړیدی دَ سنت برابر دوی لره ثواب دے بے انتها (٨) ته اُوایه ایا تاسو کفر کوئے په هغه ذات باندے چه پیدا کړیده زمکه په مقدار دَ دوه ورځو کښ او جوړوئے تاسو هغه لره

چه غوړونه دَ جاهلانو ئے دَ حق آوریدلونه بندکړی دی ﴿وَمِنْۢ بَيْنِنَا وَبَيْنِكَ حِجَابٌ﴾ دَحجاب نه مراد مخالفت دَ دین دے یا تفاوت دَ جهل او دَ علم دے ﴿فَاعْمَلْ اِنَّنَا عٰمِلُوْنَ﴾ یعنی دَ خپل دین په مقتضیٰ باندے کارکوه اومونږ پریږ ده چه په خپله پخوانئے طریقه عمل کوؤ یا ته کوشش کوه زمونږ په مقابله کښ اومونږ به ستا په مقابله کښ محنت کوو۔

[٦] دا جواب دے دَ دغه شبهے۔حاصل دَ جواب دا دے چه زما په خبرو باندے به هله ستاسو عقلونو او غوږونو نوکارنه کولے او دارنګ څه به تاسوته هله نه بنکاره کیدلے چه څه ملك یاپیرے وے نو څه خو ستاسو غوندے بشریم اوبشرخودَ بل خبرے آوری او یوبل لره وینی اودَیوبل په خبروباندے پوهیږی ﴿يُوْحٰٓى اِلَيَّ﴾ یعنی زما او ستافرق خوصرف په وحی اوعدم وحی کښ دے دَ بشریت په تقاضاکښ نیشته ﴿اَنَّمَآ اِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ﴾ داخلاصه دَ ټولے وحی ده یعنی داخوداسے مسئله ده چه په عقل اونقل سره ثابته ده او مختصره خبره ده نو بیا پرے ولے نه پوهیږئے۔

[٧] دا اوصاف قبیحه دَ مشرکانوذکرکوی روستودَ وصف دَشرك نه ﴿الَّذِيْنَ لَا يُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ﴾ یعنی داسے عمل نه کوی چه دَ دوی نفس اومال په هغے سره پاك شی نو دلته زکوٰة په عامه معنیٰ سره دے لکه چه ابن عباس رضی اللّٰه عنهما نه نقل دے او دا وصف ئے دَ دے وجے نه په ذکرسره خاصکړو چه مشرکان دَ غیر اللّٰه په نوم باندے نذرونه ورکوی او منجورانوته ئے ورکوی اوپه ګناهونو کښ خرچ کوی لیکن دَ اللّٰه تعالیٰ په نوم باندے په مسکینانو باندے خرچ نه کوی ۔ اوپه دے ایت کښ اشاره ده چه کافرانوته به سزهٔ دَ کفرنه په نورو ګناهونو باندے هم عذاب ورکوی۔ زکوٰة نه ورکول یوپه طریقه دَ انکارسره دی نو داخو کفر دے دویم په طریقه دَ ترك العمل دے یعنی انکار دَ فرضیة نه نه کوی لیکن نه ئے ورکوی نوپه دے سره کفر نه رائځی لیکن عمل دَ کافرانو دے او دَ هغوی سره مشابهت دے۔

[٨] دابشارت اوترغیب دے ایمان اوعمل صالح ته ﴿غَيْرُ مَمْنُوْنٍ﴾ختمیدونکے نه دے یعنی همیشه دے اودغه اجرجنت دے۔

اَنْدَادًا ؕ ذٰلِكَ رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ۝۹ وَجَعَلَ فِيْهَا رَوَاسِيَ مِنْ فَوْقِهَا وَبٰرَكَ فِيْهَا وَقَدَّرَ فِيْهَآ
اَقْوَاتَهَا فِيْٓ اَرْبَعَةِ اَيَّامٍ ؕ سَوَآءً لِّلسَّآئِلِيْنَ ۝۱۰ ثُمَّ اسْتَوٰٓى اِلَى السَّمَآءِ وَهِيَ دُخَانٌ فَقَالَ لَهَا
وَلِلْاَرْضِ ائْتِيَا طَوْعًا اَوْ كَرْهًا ؕ قَالَتَآ اَتَيْنَا طَآئِعِيْنَ ۝۱۱ فَقَضٰىهُنَّ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ فِيْ يَوْمَيْنِ

شریکان دغه ذات رب دَ عالمینو دے (۹) او جوړ کړیدی په هغے کښ پاخه غرونه دپاسه دَ هغے نه او برکتونه ئے اچولی دی په هغے کښ او اندازه کړیدی په هغے کښ روزئے (قوتونه) دَ هغے په اندازه دَ پوره کیدلو دَ څلورو ورځو کښ برابر دپاره دَ محتاجو خلقو (۱۰) بیا برابر شو طرف دَ اسمان ته او هغه لوګے وؤ نو اُوئیل ئے هغه ته او زمکے ته راشئے په خوښے سره یا په نا خوښے دواړو وئیل رازو مونږ په خوښے سره (۱۱) نو پوره ئے کړه هغه اووه اسمانونه په اندازه دَ دوه ورځو کښ

[۹] روستودَ جواب دَ سوال اودَ ترغیب دَتوحید نه اثبات دَ هغے دے په څلورو عقلی دلیلونو سره دا اول دلیل دے چه په دے کښ پیدائش دَ زمکے ذکر کړے دے په مقدار دَ دوه ورځو کښ چه ورځ دَ اتوار او دَ ګل وه یعنی هغه وخت یوداسے مقدار وؤ یانوبت وؤچه اوس دَ هغے نه تعبیر کیدے شی په دوه ورځو سره۔

[۱۰] دادویم دلیل عقلی دے په دے کښ درے صفات دَ تصرف الٰهی ذکر کوی ﴿وَبٰرَكَ فِيْهَا﴾ ضمیرراجع دے غرونوته چه په هغے کښ اونے، ګټے، کانونه دَ معدنیاتو وغیره دی یا ضمیر راجع دے زمکے ته دریابونو، نهرونووغیره ته اشاره ده دا ټول دائمی منافع دی ترقیامت پورے اوبرکت کښ هم معنیٰ دَ دوام او دَ ډیروالی دَ فائدو ده ﴿وَقَدَّرَ فِيْهَآ اَقْوَاتَهَا﴾ په دے سره هغه منافع مراد دی چه دَ انسانانودَ قوت(روزئے) سره تعلق لری اودا قوت دَ زمکے اوغرونونه پیداکیږی۔ اوقَدَّرَ لفظ صریح دلالت کوی په مسئله دَ تقدیرباندے۔ ﴿فِيْٓ اَرْبَعَةِ اَيَّامٍ﴾ په دے کښ دوه ورځے مخکښے شماردی یعنی غرونه نهرونه وغیره ئے په دوه ورځو کښ پیداکړی دی چه مخکنودوه ورځوسره جمع شی نوځلورشوے ﴿سَوَآءً لِّلسَّآئِلِيْنَ﴾ سواءً په معنیٰ دَمستویة حال دے دَ اربعة ایام نه یعنی په داسے حال کښ چه داځلور ورځے پوره دی کمے په کښ نیشته یا سواء مفعول مطلق دے په معنیٰ دَ استوت سواءً اوهغه جمله حال دے دَ اربعة نه یا دَ اقواتهانه ﴿لِلسَّآئِلِيْنَ﴾ متعلق دے دَ قَدَّر سره اوسائلین په معنیٰ دَطالبین دے یعنی محتاج یا خبردے دَ مبتدامحذوفے چه (هٰذَا لِلسَّآئِلِيْنَ) یعنی دا تفصیل دَپاره دَ هغه چادے چه تپوسونه کوی په باره دَ دے ورځو کښ یا متعلق دے په سَوَآءً پورے یعنی په داسے حال کښ چه دا څلور ورځے برابردی په شمارکښ چه علم دَ سائلینو سره دے چه هغه اهل کتاب دی ځکه چه دَ هغوی په علم کښ هم څلور ورځے دی۔

[۱۱] دا دریم دلیل عقلی دے استویٰ صفت دَاللّٰه تعالیٰ دے اولفظ الی السماء دپاره دَ علو(اوچت والی) دے نومعنیٰ معلومه ده چه اوچت شو اسمان ته، لیکن کیفیت ئے مونږ ته معلوم نه دے یا استویٰ په معنیٰ دَ قصد او دَ پوره ارادے کولو ده یعنی پوره توجه ئے اوکړه اوداهم صفت دَ اللّٰه تعالیٰ دے ﴿وَهِيَ دُخَانٌ﴾ مفسرینو وئیلی دی چه عرش دَ اللّٰه تعالیٰ دَ اسمانونو دَ پیدائش نه روانده په اوبوباندے وؤنوپه هغه اوبو کښ اللّٰه تعالیٰ حرکت او اضطراب پیداکړونودَ هغے نه یو بړاس پیدا شو هغے ته ئے دخان اوئیل یعنی پشان دَ دخان(لوګی) تور توراجزاء وؤ۔

وَ اَوْحٰى فِیْ كُلِّ سَمَآءٍ اَمْرَهَا ؕ وَ زَیَّنَّا السَّمَآءَ الدُّنْیَا بِمَصَابِیْحَ ۖۗ وَ حِفْظًا ؕ ذٰلِكَ تَقْدِیْرُ الْعَزِیْزِ
الْعَلِیْمِ ﴿۱۲﴾ فَاِنْ اَعْرَضُوْا فَقُلْ اَنْذَرْتُكُمْ صٰعِقَةً مِّثْلَ صٰعِقَةِ عَادٍ وَّ ثَمُوْدَ ﴿۱۳﴾ اِذْ جَآءَتْهُمُ الرُّسُلُ
مِنْۢ بَیْنِ اَیْدِیْهِمْ وَ مِنْ خَلْفِهِمْ اَلَّا تَعْبُدُوْۤا اِلَّا اللّٰهَ ؕ قَالُوْا لَوْ شَآءَ رَبُّنَا لَاَنْزَلَ مَلٰٓىِٕكَةً
فَاِنَّا بِمَاۤ اُرْسِلْتُمْ بِهٖ كٰفِرُوْنَ ﴿۱۴﴾ فَاَمَّا عَادٌ فَاسْتَكْبَرُوْا فِی الْاَرْضِ بِغَیْرِ الْحَقِّ وَ قَالُوْا
مَنْ اَشَدُّ مِنَّا قُوَّةً ؕ اَوَ لَمْ یَرَوْا اَنَّ اللّٰهَ الَّذِیْ خَلَقَهُمْ هُوَ اَشَدُّ مِنْهُمْ قُوَّةً ؕ وَ كَانُوْا

او وحی اولیږله په هر اسمان کښ دَ کار دَ هغے اوخائسته کړیدے مونږ اسمان نزدے په چراغونو سره او ساتنه کړیده مونږ دَ هغے دا تقدیر دَ زوراور پوهه دے (۱۲) نو که دوی مخ اوګرځوؤ نو ته ورته اُوایه ویره درکوؤمه تاسوته دَ عذاب نه پشان دَ عذاب د عادیانو او ثمودیانو (۱۳) کله چه راغلل دوی ته رسولان مخکښ دَ دوی نه او روستو دَ دوی نه چه مه کوئے بندګی سیوا دَاللّٰه تعالیٰ نه دوی اُوئیل که غوختلے رب زمونږ نو نازل کړی به ئیے وؤ ملائك نو یقیناً مونږ په هغه څیز باندے چه تاسو پرے رالیږلے شوی ئیے انکار کوؤ (۱۴) نو هر چه عادیانو وؤ نو لوئے ئیے اوکړه په ملك کښ په ناحقه سره او دوی اُوئیل څوك دے سخت زمونږ نه په قوت کښ ایا دوی نه ګوری یقیناً هغه اللّٰه چه پیدا کړیدی دوی هغه خوډیر زیات دے دَ دوی نه په قوت کښ او وؤ دوی

[۱۲] دا هم دلیل عقلی دے مشتمل دے په څلورتصرفات الٰهیه باندے ﴿وَاَوْحٰی فِیْ كُلِّ سَمَآءٍ اَمْرَهَا﴾ مراد دا دے چه هر اسمان کښ ملائك دی نوهغوی ته ئیے دَ هغے مناسب احکام اولیږل یا اوحی په معنیٰ دَ انفذ دے اویچلوؤ په اسمان کښ انتظام مناسب دَ هغے۔

[۱۳] روستودَ دلیلونونه تخویف دنیوی دے اعراض کوؤنکوته په ذکردَ دوه نمونودَ مخکنو قومونوچه عاد اوثمود دی ﴿فَاِنْ اَعْرَضُوْا﴾ مراد دَ اَعْرَضُوْا نه دوام دَ اعراض دے یعنی که په اعراض کولوئے همیشوالے اوکړه اوتوبه ئیے اونکړله، او ذکر دَ عاد اوثمود اشاره ده چه دَ چا قوت دَ بدنونو او دَ چا قوت دَ هنر مندے دَ اللّٰه تعالیٰ دَ عذاب نه بچ کول نشی کولے ﴿صٰعِقَةً﴾ یعنی سخت عذاب چه دَ هغے نه چغے وهل پیدا کیږی او انسانانو لره بے هوشه کړی یائیے مړه کړی۔

[۱۴] دا ذکردَ سبب دَعذاب دے په دے دواړوقومونوباندے ﴿اَنْ لَّا تَعْبُدُوْۤا اِلَّا اللّٰهَ﴾ معلومه شوه چه ټول رسولان متفق وو په مسئله دَ توحید فی العبادت باندے ﴿قَالُوْا﴾ دا انکار دَ دوی ذکرکوی اوداسبب دَ عذاب دے او حاصل دَ انکار ئیے دا دے چه مونږ رسول بشرنه منوکه ملائك رسولان وے نومونږ به منلے وے۔ ﴿بِمَاۤ اُرْسِلْتُمْ بِهٖ﴾ اشاره ده چه اصل انکار دَ دوی دَ مسئلے دَ توحیدنه وو چه په هغے باندے رسولان رالیږلے شوی وو۔

بِاٰيٰتِنَا يَجْحَدُوْنَ ﴿۱۵﴾ فَاَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيْحًا صَرْصَرًا فِيْٓ اَيَّامٍ نَّحِسَاتٍ لِّنُذِيْقَهُمْ عَذَابَ الْخِزْيِ فِي
الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۭ وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ اَخْزٰى وَهُمْ لَا يُنْصَرُوْنَ ﴿۱۶﴾ وَاَمَّا ثَمُوْدُ فَهَدَيْنٰهُمْ فَاسْتَحَبُّوا
الْعَمٰى عَلَى الْهُدٰى فَاَخَذَتْهُمْ صٰعِقَةُ الْعَذَابِ الْهُوْنِ بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿۱۷﴾ وَنَجَّيْنَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا
وَكَانُوْا يَتَّقُوْنَ ﴿۱۸﴾ ع وَيَوْمَ يُحْشَرُ اَعْدَاۗءُ اللّٰهِ اِلَى النَّارِ فَهُمْ يُوْزَعُوْنَ ﴿۱۹﴾ حَتّٰٓى اِذَا مَا جَاۗءُوْهَا شَهِدَ

زمونږ دَ ایا تونو نه ئے انکار کوؤ(۱۵) نو را اولیږله مونږ په دوی باندے سیلئے تیزه په ورځو سپیرو کښ دپاره دَ دے چه اوځکوؤ مونږ دوی ته عذاب دَ رسوائیے په ژوند دنیوی کښ او خامخا عذاب دَ اخرت ډیر رسوا کوؤنکے دے او دوی سره به مدد نشی کیدلے (۱۶) او هرچه ثمودیان وؤ نو هدایت اوکړو مونږ هغوته (په واسطه دَرسولانو) نو خوښ کړو هغوی ړوندوالے په هدایت باندے نو اونیول هغوی چغے دَ عذاب دَ ذلت په وجه دَ هغه عملونو چه دوی کول (۱۷) او بچ کړل مونږ هغه کسان چه ایمان ئے راوړے وؤ او وؤ چه ځان ئے ساتلو دَشرك نه (۱۸) او په کومه ورځ چه جمع به کړیشی دشمنان دَ اللّٰه تعالیٰ اور ته نو دوی به تقسیم شی په ډلو ډلو (۱۹) تر هغے پورے چه کله راشی اور ته گواهی به اوکړی

[۱۵] دَ مشترکه انکارذکرکولونه روستودَ یوقوم جدا جدا طریقه دَ کفر او عذاب ذکر کوی۔ نو دَ عادیانو مرض استکبار وؤاوسبب دَ استکبار غټ والے دَ بدنونو دَ دوی وو نو مراد دَ استکبارنه دا دے چه دوی دَ هودعلیہ السلام خبرے ته غوږنه کیښودلو اوپرواه ئے نه کوله۔

[۱۶] دا تفسیردَصاعقے دَ عادیانودے﴿صَرْصَرًا﴾ سخته تیزه اوسخته یخه آوازکوؤنکے وه دا لفظ دلالت کوی په دے ټولومعانیوباندے نوپه هغه سیلئے کښ دا درے واړه صفتونه موجود وو﴿اَيَّامٍ نَّحِسَاتٍ﴾ دَ دغه ورځوشماره په سورة الحاقة (۷) کښ ذکرده نَحِسَاتٍ، نحس مقابل دَ سعد دے یعنی سپیرے وے په حق دَهغوی کښ یا مراد دے په معنیٰ دَپرله پسے یا سختے یخے یا ډیرو دورو والا۔

[۱۸،۱۷] دا ذکرَ دویمے نمونے دَعذاب دے﴿فَهَدَيْنٰهُمْ﴾یعنی په واسطه دَ رسولانودوی ته توحید اوایمانیات په دلیلونو سره بیان شول اودوی واوریدل لیکن ﴿فَاسْتَحَبُّوا الْعَمٰى عَلَى الْهُدٰى﴾ حاصل دا دے چه عادیانودَسرهٔ هدایت ته غوګ نه وؤکیخودلے دَ وجے دَاستکبارنه اوثمودیانوخوغوګ کیخودلولیکن ګمراهی (شرك وکفر) ورته خائسته ښکاریدله نودَ دے وجے نه اعراض ئے اوکړودَ دے نه معلومه شوه چه کفرکوؤنکی دوه قسمه دی یوقسم ضدیان عنادیان چه حق پیژنی لیکن نه منی اودویم قسم چه شرك اوکفر ورته جائز اودَ ثواب کارښکاریږی نو توحید نه منی او داوړه قسمونه اوس هم موجود دی۔

[۱۹] روستودَ تخویف دُنیوی نه تخویف اُخروی ذکرکوی ﴿اَعْدَاۗءُ اللّٰهِ﴾ هرمشرك اوکافراودَ اللّٰه اودَ رسول دَحکم مخالفت کوؤنکی په دے لفظ کښ داخل دی لیکن هغه خلق چه دَ قرآن نه اعراض کوی اونه ئے آوری اونور خلق ترینه هم منع کوی دا اول نمبر دُشمنان دَ اللّٰه تعالیٰ دی په دے سورة کښ داصفت والا خلق ذکرشویدی دَ دے وجے نه خاص په دے سورة کښ اعداء اللّٰه ئے وصف ذکرکړے دے ﴿يُوْزَعُوْنَ﴾ یعنی روستودَ جمع کولونه به په مختلف ډلوکښ تقسیم کړے شی او اورته به داخل کړے شی۔

عَلَيْهِمْ سَمْعُهُمْ وَاَبْصَارُهُمْ وَجُلُوْدُهُمْ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۲۰﴾ وَقَالُوْا لِجُلُوْدِهِمْ لِمَ شَهِدْتُّمْ عَلَيْنَا ؕ
قَالُوْٓا اَنْطَقَنَا اللّٰهُ الَّذِيْٓ اَنْطَقَ كُلَّ شَيْءٍ وَّهُوَ خَلَقَكُمْ اَوَّلَ مَرَّةٍ وَّاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۲۱﴾ وَمَا كُنْتُمْ
تَسْتَتِرُوْنَ اَنْ يَّشْهَدَ عَلَيْكُمْ سَمْعُكُمْ وَلَآ اَبْصَارُكُمْ وَلَا جُلُوْدُكُمْ وَلٰكِنْ ظَنَنْتُمْ اَنَّ اللّٰهَ لَا
يَعْلَمُ كَثِيْرًا مِّمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿۲۲﴾ وَذٰلِكُمْ ظَنُّكُمُ الَّذِيْ ظَنَنْتُمْ بِرَبِّكُمْ اَرْدٰىكُمْ فَاَصْبَحْتُمْ مِّنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿۲۳﴾
فَاِنْ يَّصْبِرُوْا فَالنَّارُ مَثْوًى لَّهُمْ ۚ وَاِنْ يَّسْتَعْتِبُوْا فَمَا هُمْ مِّنَ الْمُعْتَبِيْنَ ﴿۲۴﴾ وَقَيَّضْنَا لَهُمْ قُرَنَآءَ

په دوی باندے غوږونه دَ دوی او سترګے دَ دوی او ځرمنے دَ دوی په هغه عملونو باندے چه دوی کول (۲۰) او دوی به اُوائي ځرمنو ځپلوته ولے ګواهی اوکړه تاسو په مونږ باندے دوی به اُوائي ګویائیی راکړه مونږ ته اللّٰه تعالیٰ هغه ذات چه ګویائي ورکړے ده هر ځیز ته او هغه پیدا کړی ئے تاسو اول ځل او هغه ته به اوګرځولے شئے تاسو (۲۱) او نه وئے تاسو چه پرده موکوله دَ دے نه چه ګواهی به اوکړی په تاسو باندے غوږونه ستاسو او نه سترګے ستاسو او نه ځرمنے ستاسو لیکن ګمان کوئے تاسو چه اللّٰه تعالیٰ نه دے عالم په ډیرو دَ هغه کارونونه چه تاسو ئے کوئے (۲۲) او دا ګمان ستاسو دے داسے ګمان چه کړیدے تاسو په رب ځپل باندے هلاك ئے کړئے تاسو نو شوئے تاسو دَ تاوانیانو نه (۲۳) که دوی صبر کوی نو اور ځائے دَ اوسیدلو دَ دوی دے اوکه دوی واپسی غواړی نو دوی به نشی واپس کیدے (۲۴) او جوخت لګولی دی مونږ دَ دوی سره ملګری (شیطانان)

[۲۰] هرکله چه سورة مؤمن کښ ذکر کړے ووچه دا مشرکان به انکاراوکړی دَ شرك کولونه نوپه دے سورة کښ په هغوی باندے شهادت دَ ځپلو اندامونو ذکر کوی۔

[۲۱] تخصیص دَ ځرمنوئیے اوکړو دَ دے وجے نه چه دَ غوګونواودَ سترګو سره خطاب نشی کیدے او باقی اندامونو سره مخاطبه کیدے شی اوبله وجه داچه جلود ټولو اندامونوته شامل دے۔

[۲۲] دا هم په تخویف کښ داخل دے دا هم قول دَ ځرمنو دے یا دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه دے په آخرت کښ یا زجردے په دنیا کښ۔

[۲۳] اهل علم وائی ظن دوه قسمه دے یوحسن دے اوبل سوء او فاسد دے۔ حسن دا دے چه اللّٰه تعالیٰ خاوند دَ رحم او دَ فضل ګنړی او طاعت کوی او ظن فاسد دا دے چه اللّٰه تعالیٰ عالم الغیب نه ګنړی یا هیڅ طاعت نه کوی۔

[۲۴] داهم په تخویف اُخروی کښ داخل دے یعنی که صبر کوی اوکه نه کوی خو جهنم ته به ضروردا خلیږی لکه سورة طور (۱۶) ﴿وَاِنْ يَّسْتَعْتِبُوْا﴾دا دَ عتبیٰ نه اخستلے شوے دے په معنیٰ دَ رجوع سره دے یعنی که چرے دوی دنیاته واپسی طلب کوی نودا نشی منلے کیدے اوقرطبی اول قول داسے ذکر کړے دے چه دا په دنیاکښ مراد دے یعنی که دوی په دنیاکښ عمل دَ اوروالوباندے ټینګ وی نواورته به داخلیږی اوکه چرے دوی سرهٔ دَکفر نه توبے اواستغفار کوی نو داسے توبه ئے نه قبلیږی۔

فَزَيَّنُوْا لَهُمْ مَّا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَحَقَّ عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ فِيْٓ اُمَمٍ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ ۚ اِنَّهُمْ كَانُوْا خٰسِرِيْنَ ﴿۲۵﴾ وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَا تَسْمَعُوْا لِهٰذَا الْقُرْاٰنِ وَالْغَوْا فِيْهِ لَعَلَّكُمْ تَغْلِبُوْنَ ﴿۲۶﴾ فَلَنُذِيْقَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا عَذَابًا شَدِيْدًا ۙ وَّلَنَجْزِيَنَّهُمْ اَسْوَاَ الَّذِيْ

نو خائسته کوی دوی ته هغه چه مخکښ دی دَ دوی نه او هغه چه روستو دی دَ دوی نه او پوره شویده په دوی باندے فیصله (داخلیږی به) په هغه ډلو کښ چه تیرے شویدی مخکښ دَ دوی نه دَ پیریانو او انسانانونه یقیناً دوی تاوان والا دی (۲۵) او وائي کافران مه ګډئے غوږ دے قرآن ته او شور کوئے په مقابله دَ دے کښ دے دپاره چه زورآور شئے (۲۶) نو خامخا اوبه څکوؤ مونږ هغه چاته چه کفرئیے کړیدے عذاب سخت او خامخا سزا به ورکړو مونږ دوی ته ډیره ناکاره سزا

[۲۵] دَ دے ایت نه دویم باب دے تر(٤٤) پورے په دے کښ ذکر کوی سبب دَ اعراض او دَ منع دَ قرآن بیا منع کول دَ قرآن نه ذکر کوی او دا دویمه شبهه دَ دوی ده۔ اوجواب دَ هغے په تخویف اُخروی سره دے بیا بشارت دے په استقامت باندے په وخت دَ شبهاتو کښ بیا طریقه دَ دعوت راوړی، بیا دوه عقلی دلیلونه بیازجر دے الحاد کوؤنکوته اوصدق دَ قرآن او تسلی رسول اللّٰهﷺ ته ذکر کوی ۔ په دے (۲۵) کښ سبب دَ کفر دَ دوی ذکر کوی او دا سبب دے دَ اعراض او دَمنع کولو دَ قرآن نه او دا هم سبب دے دَعذاب چه مخکښ ذکر کړے شو او په دے کښ دویمے شبهے ته اشاره ده حاصل دا دے چه دوی ته اعمال دَ مشرکانو اوکافرانو خائسته ښکاری نو دَ هغے دپاره په شیطانی وسوسو سره دلیلونه پیش کوی مثلاً وائي چه دَ اولیاؤ کرامو قدرت شته هرکله چه مونږ ورته رامددشه اُوایونو دَ قبرونو نه آواز راکوی کله راته لاس را اوباسی مصافحه راسره کوی کله راته په صحراء کښ رابښکاره شی چه څه ستا مددله راغلے یم کله راته په خوب کښ راشی اودَ مدد کولو وعدے راسره کوی اوکه چرته مونږ دَ دوی نذرانه پریږدونو په مونږ باندے په خوب کښ کتې اړوی او ویره راکوی نومعلومه شوه چه دَ دوی بندګی کول او دوی ته رامدد شه وئیل جائز دی حاصل دَ جواب دا دے چه دا ټول شیطانی کارونه دی هغه شیطان ځان ته دَ ولی نوم کیدی اوداکارونه شیطان دَد ے وجے نه کوی چه دے خلقوته دَ شرك کارونه خائسته ښکاره شی ﴿فَزَيَّنُوْا لَهُمْ مَّا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ﴾ په دے کښ یو قول دا دے چه دَ اول نه مراد اموال دَ دنیا دی او دَ دویم نه مراد آخرت او بعث بعد الموت دے او دویم دَ دے په عکس سره دے۔ دَ دنیا خائسته کول دا دی چه په هغے کښ داسے مشغول شی چه دَ دین او آخرت نه غافل شی او دَ آخرت خائسته کول دا دی چه دَ هغے نه ئے منکراو ګرځوی۔اودریم قول نیشاپوری ذکر کړے دے چه مراد دَمابین ایدیهم نه عملونه دَ مفسدانو دَد ے زمانے دی اوماخلفهم نه مراد عملونه دَ مفسدانومشرانودی چه هغه شرکیات کفریات او خرافات دی او دوی ته خائسته اوښه کارونه ښکاریږی۔

[۲۶] دازجرنتیجه ده دَ تیرشوی ایت دَ مضمون یعنی هرکله چه شیطانانودوی ته شرکیات خائسته کړی دی او قرآن کریم خوښکاره ردکوی په شرك باندے نوپه دے وجے سره دوی دَ قرآن نه خلق منع کوی ﴿الَّذِيْنَ كَفَرُوْا﴾ په دے وصیت باندے تصریح دَ دے دَپاره اوکړه چه معلومه شی چه دَ قرآن آوریدلونه

كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۲۷﴾ ذٰلِكَ جَزَآءُ اَعْدَآءِ اللّٰهِ النَّارُ ۚ لَهُمْ فِيْهَا دَارُ الْخُلْدِ ؕ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوْا بِاٰيٰتِنَا
يَجْحَدُوْنَ ﴿۲۸﴾ وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا رَبَّنَآ اَرِنَا الَّذَيْنِ اَضَلّٰنَا مِنَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ نَجْعَلْهُمَا تَحْتَ اَقْدَامِنَا
لِيَكُوْنَا مِنَ الْاَسْفَلِيْنَ ﴿۲۹﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ قَالُوْا رَبُّنَا اللّٰهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوْا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلٰٓئِكَةُ
اَلَّا تَخَافُوْا وَلَا تَحْزَنُوْا وَاَبْشِرُوْا بِالْجَنَّةِ الَّتِيْ كُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ ﴿۳۰﴾ نَحْنُ اَوْلِيٰٓؤُكُمْ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا

دَ هغه عملونو چه دوی کول (۲۷) دا سزا دَ دُشمنانو دَ اللّٰه تعالیٰ ده اور دے دوی لره په هغے کښ کور دَ همیش والی دے بدله ورکیدی شی په وجه دَ دے چه دوی دَ ایاتونو زمونږ نه انکار کوؤ (۲۸) او اوبه وائي کافران اے ربه زمونږ اوخایه مونږ ته هغه دوه کسان چه بے لارے کړے وؤ مونږه دَ پیریانو او انسانانو نه چه کیږ دو مونږ دا دواړه لاندے دَ خپو زمونږ نه دے دپاره چه شی دوی دَ ذلیلانو نه (۲۹) یقیناً هغه کسان چه وائي رب زمونږ اللّٰه تعالیٰ دے بیا پاخه شوی وی (په دے ویناً) راکوځیږی په دوی باندے ملائك چه مه ویریږئے او مه خفه کیږی او زیرے واخلئے په جنت سره هغه چه تاسو سره ئے وعده کیدے شوه (۳۰) مونږ ستاسو ملګری یو په ژوند دُنیوی کښ

منع کوؤنکے کافر دے که په هره زمانه کښ وی ځکه ابن کثیر وئیلی دی چه دے ایت کښ داخل دی هغه ځوك چه دَ دوی په مسلك باندے تلل کوی په وخت دَ آرویدلو دَ قرآن کښ ﴿وَالْغَوْا فِيْهِ﴾ شور وشغب کول او عیبونه لګول او اعتراضونه کول اوپوقے کول پولوته دا لفظ شامل دے دَ قرآن په مقابله کښ په نورو علمونو کښ مشغولیدل او شعرونه نعتونه وئیل او ریډیوان غږول وغیره دا پول په دے لفظ کښ داخل دی۔

[۲۷] د اجواب دَ ماقبل قول دے په تخویف ورکولو په پنځه طریقو سره په دے ایت کښ دوه طریقے دی یو عذاب شدید په دنیا او آخرت کښ او دویم تاکید په سزا ورکولو سره په حرف دَلام اونون په لنجزینهم، کښ دارنګ په دے ایت کښ دَ قرآن منع کوؤنکو په باره کښ دوه حکمونه دی یو داچه داکار دَ کفردے او دویم داچه دا ډیرناکاره عمل دے۔

[۲۸] په دے ایت کښ تخویف دے په دوه طریقوسره یو داچه دَ دوی سزا پوره اُوردے ځکه چه النّار،ئے معرفه ذکرکړے دے دپاره دَ کمال دویم داچه دغه اور دَ دوی دپاره دارالخلد دے او دوه حکمونه ئے ذکرکړهٔ یو داچه دا خلق دَ اللّٰه تعالیٰ صریح دُشمنان دی دویم داچه دوی دَ اللّٰه تعالیٰ دَ ایاتونونه عناداً انکارکوؤنکی دی۔

[۲۹] په دے ایت کښ تخویف دے په یوطریقے سره هغه په اصل کښ ارمان کول دی په تقلید دَ مشرانوګمراهانوسره اودا اشاره ده تیرشوی ایت(۲۵)ته چه دَ دوی دَپاره په دنیاکښ ناکاره قرناء دی اوآخرت کښ به هغوی ته ګمراه اُوائي ﴿لِيَكُوْنَا مِنَ الْاَسْفَلِيْنَ﴾ یعنی لکه دوی په دنیاکښ مونږذلیل کړی وواودوی به اوچت زمونږپه اوګوباندے ناست وونو نن مونږ غواړوچه دوی زمونږدَ لاندے اوذلیل شی۔ لیکن دا قول دَ دوی صرف په طریقه دَ تمنا سره دے اوحال داچه نه به پوره کیږی۔

[۳۰] هرکله چه حال دَ مخالفینودَ قرآن ذکرکړے شونو اوس حال دَ قرآن والوذکرکوی په طریقه دَ

وَفِي الْاٰخِرَةِ ۚ وَلَكُمْ فِيْهَا مَا تَشْتَهِيْٓ اَنْفُسُكُمْ وَلَكُمْ فِيْهَا مَا تَدَّعُوْنَ ﴿۳۱﴾ نُزُلًا مِّنْ غَفُوْرٍ رَّحِيْمٍ ﴿۳۲﴾
وَمَنْ اَحْسَنُ قَوْلًا مِّمَّنْ دَعَآ اِلَى اللّٰهِ وَعَمِلَ صَالِحًا وَّقَالَ اِنَّنِيْ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ ﴿۳۳﴾ وَلَا تَسْتَوِي
الْحَسَنَةُ وَلَا السَّيِّئَةُ ۭ اِدْفَعْ بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ فَاِذَا الَّذِيْ بَيْنَكَ وَبَيْنَهٗ عَدَاوَةٌ كَاَنَّهٗ وَلِيٌّ

او په اخرت کښ او تاسو لره په دیکښ هغه څیزونه دی چه غواړی ئے نفسونه ستاسو او تاسو لره په دیکښ هغه دی چه ارمان کوئے تاسو (۳۱) میلمستیا تیاره ده دَ طرف دَ بخنه کوؤنکی رحم کوؤنکی نه (۳۲) او څوك ډیر خائسته دے په وینا کولو کښ دَ هغه چانه چه دعوت کوی اللّٰه تعالیٰ ته او عمل کوی دَ سنت برابر او وائي چه یقیناً څه دَ مسلمانانو دَ ډلے نه یم (۳۳) او برابر نشی کیدے ښه او بد دفع کوه (بدولره) په هغه طریقه چه خائسته ده نو دغه وخت هغه څوك چه په مینځ ستا او په مینځ دَ هغه کښ دُشمنی وی گویاکه دِ دے دوست

بشارت سره ﴿قَالُوْا رَبُّنَا اللّٰهُ﴾ دا دَ قرآن دَتاثیرپه وجه سره دَ دوی عقیده جوړه شویده مراد دَ دے پوره ایمان اوکمالِ توحید دے یعنی خالق اومالك اوحقداردَ بندګئے اودَ پالنے څیزونه پیداکوؤنکے او ټول حاجتونو پوره کولوباندے قادر، دلته رب دے ټولوصفتونوته شامل دے﴿ثُمَّ اسْتَقَامُوْا﴾ مراد ترینه په توحید او ایمان باندے پوخ پاتے کیدل دی ترمرګه پورے او دَ دے پوخ والی تفسیرکښ دَابوبکرؓ نه نقل دے چه په امر اونهی باندے کلك وی اودَ لومبرانوپشان یوخوابل خوا نه پتیږی اودَ عثمانؓ نه نقل دے چه اخلاص دَ هرعمل دَ اللّٰه تعالیٰ دَپاره کوی او دَ علیؓ عنه نه روایت دے چه ټول فرائض اداکوی۔ اودا بشارت ئے په اته طریقو سره ذکرکړے دے او دے ته کرامات دَ اولیاؤ وئیلے کیږی نو معلومه شوه چه تعریف دَ ولی هم دا دے چه ربنا اللّٰه وائي او صفت دَاستقامت پکښ موجود وی۔ په دے ایت کښ بشارت په څلورو طریقو سره ذکرکړے دے ۔ دانزول په خوب کښ هم وی په رشتینوخوبونوسره اوپه وخت دَ زنکدن کښ به وی او په وخت دَ پورته کیدلو دَ قبرونونه اوپه حشرکښ۔

[۳۱] په دے آیت کښ بشارت په درے طریقوسره دے ﴿نَحْنُ اَوْلِيٰٓؤُكُمْ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَفِي الْاٰخِرَةِ﴾ دَمؤمنانو دَپاره ملائك ملګری دی په دنیا کښ الهام دَ خیر ورته کوی او دَ مونځ دَپاره ئے دَ خوب نه بیداره وی نور مضراتِ شیطانی ترینه لرے کوی لکه چه، له معقبات من بین یدیه ومن خلفه یحفظونه من امراللّٰه، رعد (۱۱) کښ تیر شوی دی ﴿وَفِي الْاٰخِرَةِ﴾ ملائك به آخرت کښ هم ملګری او دوستان وی شفاعت به مؤمنانولره کوی او سلامونه به ورته کوی۔

[۳۲] په دے کښ یوبشارت دے ﴿نُزُلًا﴾ هغه څیزونه خوراك څکاك مکان وغیره چه دَ میلمه دَپاره تیاریږی یعنی دَ دنیا پشان به نه وی چه دَ میلمه دَپاره به تکلّف صرف درے ورځے کوی اوبیا به عام خوراك خوری لیکن په جنّت کښ به هروخت اعزاز اواکرام دَ میلمه پشان وی۔

[۳۳] دا بیان دَ صفت دَ استقامت دے چه دعوت الی اللّٰه کوی او په طریقه دَ زورنے سره دے هغه کسانوته چه دَ قرآن دَ آوریدلونه خلق منع کوی یعنی قرآن ډیرخائسته دعوت دے نو دَ دے نه ولے خلق منع کوئے؟ او په دے ایاتونو کښ دَ دعوت الی اللّٰه آداب ذکرکوی په دے ایت کښ درے آداب دی۔ اول ادب

حَمِيْمٌ ﴿۳۴﴾ وَمَا يُلَقّٰىهَآ اِلَّا الَّذِيْنَ صَبَرُوْا ۚ وَمَا يُلَقّٰىهَآ اِلَّا ذُوْ حَظٍّ عَظِيْمٍ ﴿۳۵﴾ وَاِمَّا يَنْزَغَنَّكَ مِنَ

کرم (مخلص)(۳٤) اونشی ورکیدے دا خصلت مگر هغه کسانو ته چه صبر ئیے کړیدے او نشی ورکیدے دا مگر لوئے برخے والا ته (۳۵) او که چرے اورسیږی تاته دَ

﴿دَعَآ اِلَى اللّٰهِ﴾ یعنی مقصد اومنشور دَ دعوت دَ دهٔ (الی اللّٰه) دے او دَ دے نه دعوت دَ توحید په ټولو اقسامو سره او دعوت اطاعت دَ اللّٰه تعالیٰ او دَ رسول ته اودعوت عمل دَ سنت ته په ټولوحالاتوکښ مراد دے، دویم ادب ﴿وَعَمِلَ صَالِحاً﴾ دا ادب دَپاره دَ تاثیر دَ دعوت دے په زړونودَخلقوکښ۔اوعمل صالح شامل دے پوره تابعداری کول دَ سنّت دَ رسول اللّٰه ﷺ اودَ صحابه کراموته، دریم ادب ﴿وَقَالَ اِنَّنِيْ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ﴾ دا ئیے دَ دعوت کولونه روستو ذکرکړو اشاره ده چه دا قول په وخت دَ ضرورت کښ دے مثلاً چه خلق تپوس اوکړی چه اے داعی ته دَ کومے ډلے سره تعلق لرے نو دا جواب دِ اوکړی یا مراد دَ اسلام نه اخلاص دے یعنی که خلق ګمان اوکړی چه دَ دهٔ به په دے دعوت کښ دَ دنیا مال وجاه وغیره مقصد وی نو جواب به اوکړی په اظهار دَ اخلاص سره۔

[۳٤] په دے ایت کښ دوه اداب ذکرکوی اول ولاتَستَوِی، یعنی داعی له ضروری دی چه دَ حسنه اوسیئه فرق پوره اوپیژنی دپاره دَ دے چه په حسنه باندے امرکوی اودَ سیئه نه نهی کوی او ﴿اَلْحَسَنَةُ﴾ توحید اوسنّت ته وئیلے کیږی اوسیئه شرك بدعات اوفسق فجورته وئیلے کیږی یامراد دَ حسنه نه خائسته اخلاق دی او دَ سیئة نه بداخلاق دی۔ دویم ادب تفریع ده په ماقبل جمله باندے ﴿اِدْفَعْ بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ﴾ یعنی په بیان دَحسنه سره چه توحید اوسنت دے دفع کوه شرك وبدعت اوګناهونو لره اشاره ده چه دَ مسئلے مقابله په مسئلے سره کوه په کنځلو اوجګړے کولوسره مکوه یا مراد دا دے چه په صبر حلم اوعفواوکرم وغیره دَ مخالفینودَ غضب اوکنځلواودَ ظلم وغیره مدافعت کوه ﴿فَاِذَا الَّذِيْ بَيْنَكَ وَبَيْنَهٗ عَدَاوَةٌ﴾ دا بیان دَ فائدے دَ دغه طریقے دَ دعوت او دَ هغے ثمره اونتیجه ذکرکوی ﴿وَلِيٌّ﴾ یعنی قریب به شی ﴿حَمِيْمٌ﴾ مخلص به اوګرځی (سوال) دَ دے ادابو خو انبیاء علیهم السلام ټول ښه پابند وؤ خاص کربیا زمونږنبی ﷺ خوپه دے آدابو باندے پوره متصف وو او حال داچه دَ هغه بعض دشمنان لکه ابوجهل، ابولهب وغیره خودوستان نه شول؟(جواب) دا چه مراد دَ دُشمن نه په دے ایت کښ دُشمن دَ جهل دَ وجے دے عنادی دشمن مراد نه دے عداوةٌ کښ تنکیرډپاره دَ خاص نوع دے په قرینه دَ سورة عنکبوت(٤٦) چه دے کښ دَ عنادیانو استثناء ئیے کړے دَ جدال بالاَحسن نه۔

[۳۵] په دے ایت کښ عظمت شان دَ دغه خصلت ذکرکوی یعنی دفاع په احسن طریقے سره دَ صبرناکو او دَجنتیانو خصلت دے ﴿ذُوْ حَظٍّ عَظِيْمٍ﴾ دَدے نه مراد جنّت دے دَ دے نه معلومه شوه چه دعوت کؤنکے حق ته په داسے خصلتونو سره دَ اللّٰه تعالیٰ په نیز باندے دَلوئے برخے خاوند دے او جاهلان خلق دَ برخے خاوند هغه چاته وائي چه لیونے او مجذوب وی او دا ناکاره عقیده ده۔

الشَّيْطٰنِ نَزْغٌ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ ؕ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿۳۶﴾ وَمِنْ اٰيٰتِهِ الَّيْلُ وَالنَّهَارُ وَالشَّمْسُ وَ
الْقَمَرُ ؕ لَا تَسْجُدُوْا لِلشَّمْسِ وَلَا لِلْقَمَرِ وَاسْجُدُوْا لِلّٰهِ الَّذِيْ خَلَقَهُنَّ اِنْ كُنْتُمْ اِيَّاهُ تَعْبُدُوْنَ ﴿۳۷﴾ فَاِنِ
اسْتَكْبَرُوْا فَالَّذِيْنَ عِنْدَ رَبِّكَ يُسَبِّحُوْنَ لَهٗ بِالَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَهُمْ لَا يَسْـَٔمُوْنَ ﴿۳۸﴾ السجدة ۱۱ وَمِنْ اٰيٰتِهٖۤ
اَنَّكَ تَرَى الْاَرْضَ خَاشِعَةً فَاِذَاۤ اَنْزَلْنَا عَلَيْهَا الْمَآءَ اهْتَزَّتْ وَرَبَتْ ؕ اِنَّ الَّذِيْۤ اَحْيَاهَا لَمُحْيِ
الْمَوْتٰى ؕ اِنَّهٗ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۳۹﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ يُلْحِدُوْنَ فِيْۤ اٰيٰتِنَا لَا يَخْفَوْنَ عَلَيْنَا ؕ اَفَمَنْ يُّلْقٰى

شیطان دَ طرف نه چوکه نو پناهی غواړه په الله تعالی سره یقیناً هغه هرڅه اوری په هرڅه پوهه دے (۳۶) او بعضے دَ دلیلونو دَ توحید نه شپه او ورځ او نمر او سپوږمئے دی سجدے مه کوئے نمر ته او نه سپوږمئے ته او سجده خاص کوئے الله تعالی ته هغه الله تعالی چه پیدا کړی دی دا که چرے تاسو خاص هغه لره بندگی کوئے (۳۷) نو که چرے دوی لوئي کوی نو هغه کسان چه ستا دَ رب سره دی تسبیح وائي هغه لره دَ شپے او دَ ورځے او دوی نه ستړے کیږی (۳۸) او بعض دَ دلیلونو دَ توحیدنه دا دی چه ته وینے زمکه اوچه نو کله چه اوړوو مونږ په هغے باندے اوبه تازه شی او بوګه شی یقیناً هغه ذات چه دائے تازه کړه خامخا ژوندے کوؤنکے دَ مړو دے یقیناً هغه په هر شیز باندے قدرت لری (۳۹) یقیناً هغه کسان چه کږلیچ کوی په ایاتونو زمونږ کښ نه شی پټیدلے زمونږ نه ایا نو هغه ځوک چه غورځولے کیږی

[۳۶] په دے ایت کښ بل ادب ذکرکوی دپاره دَ داعی ﴿وَاِمَّا يَنْزَغَنَّكَ مِنَ الشَّيْطٰنِ﴾ یعنی هرکله چه مخالفین سب وشتم کوی نوشیطان انسی یا جنّی تاته وسوسه اوکړی چه ته هم ورته کنځل اوکړه اوجګړے ته دِ اماده کوی ﴿فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ﴾ دَ استعاذه بالله قرآن کښ په دوه حالتو کښ امردے اول په وخت دَ شروع کولو دَ قرائت دَ قرآن کښ لکه سورة نحل (۹۸) اودویم په وخت دَ غضب اوغصّه کیدلو کښ لکه چه سورة اعراف (۲۰۰) کښ دی۔

[۳۷] په دے ایت کښ دلیل عقلی په توحید باندے ذکرکوی او اشاره ده چه داعی اګرچه غصه شی نو اعوذبالله وئیلونه روستودِ دلیلونه پیش کوی ﴿وَمِنْ اٰيٰتِهِ﴾ په دے کښ اشاره ده چه دلیلونه دَ توحید بے شماره دی ﴿لَا تَسْجُدُوْا﴾ رد دے په هغه مشرکین باندے چه دَ نمر اوسپوګمئے عبادتونه کوی لکه چه قوم دَ ابراهیم علیه السلام وؤ دارنګ بلقیس او قوم دَ هغے وؤ اوحدیث کښ وارد دی چه دَ نمر دَ طلوع اوغروب په وخت کښ عبادت کوؤنکی دَ شمس هغے ته سجدے لګوی اودا هغه خلق دی چه دَ رنړا عبادت کوی نو دا په اصل کښ دَ مجوسیانویوه ډله ده۔

[۳۸] دا زجردے په پریخودلودَ سجدے سره دَ وجے دَ استکبارنه پشان دَ ابلیس چه تسبیح وئیل دَ ملائکو دپاره امرګړخیدلے دے لکه انسان چه سااخلی اوپه هغے باندے نه ستړے کیږی۔

[۳۹] دا بل دلیل عقلی دے اواشاره ده چه په باران سره په زمکه کښ انقلاب پیدا کیږی دارنګ په قرآن بیانولو سره په خلقو کښ انقلاب پیداکیږی ﴿خَاشِعَةً﴾ اوچه اوشاړه اودوړو والا چه بوټی پکښ نه وی ﴿اهْتَزَّتْ وَرَبَتْ﴾ دا حالت مخکښ دَ بوټی راوتلونه وی یعنی زمکه په وخت دَ بوټی راوتلو کښ

فِي النَّارِ خَيْرٌ اَمْ مَّنْ يَّاْتِيْٓ اٰمِنًا يَّوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ اِعْمَلُوْا مَا شِئْتُمْ ۙ اِنَّهٗ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿۴۰﴾ اِنَّ
الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِالذِّكْرِ لَمَّا جَآءَهُمْ ۚ وَاِنَّهٗ لَكِتٰبٌ عَزِيْزٌ ﴿۴۱﴾ لَّا يَاْتِيْهِ الْبَاطِلُ مِنْۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَلَا
مِنْ خَلْفِهٖ ؕ تَنْزِيْلٌ مِّنْ حَكِيْمٍ حَمِيْدٍ ﴿۴۲﴾ مَا يُقَالُ لَكَ اِلَّا مَا قَدْ قِيْلَ لِلرُّسُلِ مِنْ قَبْلِكَ ؕ اِنَّ
رَبَّكَ لَذُوْ مَغْفِرَةٍ وَّذُوْ عِقَابٍ اَلِيْمٍ ﴿۴۳﴾ وَلَوْ جَعَلْنٰهُ قُرْاٰنًا اَعْجَمِيًّا لَّقَالُوْا لَوْلَا فُصِّلَتْ اٰيٰتُهٗ ؕ ءَاَعْجَمِيٌّ

پہ اور کښ غوره دے اوکه هغه څوك چه رائحی به امن والاپه ورځ د قیامت عمل کوئے چه څه مو خوښه
وی یقیناً اللّٰه تعالیٰ په هغه عملونو چه کوئے تاسو لیدونکے دے (٤٠) یقیناً هغه کسان چه کفرئیے کړیدے
په قرآن باندے هرکله چه راغے دوی ته (هلاك به شی) او یقیناً دا کتاب دے عزتمند (٤١) نه شی راتللے دهٔ
ته باطل د مخکښ د دهٔ نه او نه د روستو د دهٔ نه نازلول د دهٔ دی د طرف د حکمت والا ستائیلے شوی نه
(٤٢) نه وئیلے کیږی تانه مګر هغه چه وئیلے شویدی رسولانو ته ستانه مخکښ یقیناً ستا رب خامخا
مالك د بخنے دے او مالك د عذاب درد ناك دے (٤٣) اوکه چرے نازل کړے وے مونږ دا قرآن په ژبه عجمی
خامخا دوی به وئیل چه ولے نه دی جدا جدا ایاتونه د دهٔ او ایا کتاب عجمی دے

اوخوزیګی یعنی ځائے دَراوتلو فراخه شی او دازمکه اوپرسیږی یعنی نرمه شی۔ یا داروستو د بوټی راوتلونه صفتونه د بوټی دی زمکے ته ئے نسبت مجازیه دے یعنی تیغ د بوټی په وخت د راوتلوکښ اوخوزیګی اوبیا پورته شی بره طرف ته ﴿اِنَّ الَّذِیْٓ اَحْیَاهَا﴾ دا استدلال دے د دے حالت نه په دوباره ژوند ثابتولو باندے او دارنګ دا تذکیر د قیامت دے یعنی هرکله چه انسان خپل فصل د زمکے اُوینی نوهسے نه چه د دنیا د محبت د وجے نه بعث بعد الموت هیر کړی۔

[٤٠] دا متعلق دے د لاتسمعوا لهذا القرآن، سره یعنی الحاد په ایاتونوکښ په داسے طریقه کوی چه خلق ئے د اوریدلونه منع کوی او تحریف اوباطل تاویلونه کوی اومقابلے کوی اونودوی لره زجراوتخویف ورکوی په درے طریقو سره۔

[٤١، ٤٢] دا هم زجردے ملحدینودَ قرآن ته سرهٔ د بیان د صدق د قرآن نه په څلورو صفتونوسره ﴿عَزِیْزٌ﴾ د دے ډیرے معنے دی اوهغه ټولے مراد دی۔ عزت مند دے په نیز د اللّٰه تعالیٰ، غالب دے په هرکتاب باندے، بے مثله بے نظیره دے، ګران دے یعنی څوك ئے مقابله نشی کولے ﴿لَا یَاْتِیْهِ الْبَاطِلُ﴾ باطل نه مراد تغییراوتبدیل دے یا تکذیب دے یا شیطان دے ﴿مِنْۢ بَیْنِ یَدَیْهِ وَلَا مِنْ خَلْفِهٖ﴾ دوه طرفونه ئے ذکرکړه مراد ترینه هرطرف دے یعنی دَهیڅ جهت نه پکښ باطل(په دغه درے معانیوسره) نشی راتللے یا مراد د دے نه تیرشوی واقعات او راتلونکے پیشګوئے دی او باطل نه مراد تکذیب دے یا مراد دے نه مخکښ نازل کړے شوی کتابونه دی او روستو کتاب نازل کیدل دی یعنی تیرشوی کتابونوکښ د دے قرآن تکذیب نیشته او روستو هم د دے نه منسوخ کوؤنکے نشی راتللے او دا دلیل دے چه دا آخری کتاب دے چه په آخری نبی باندے نازل شویدے۔

[٤٣] داتسلی ده رسول اللّٰهﷺ ته روستودَ ذکرد ملحدینونه اودَ ایت دوه تفسیرونه دی اول داچه ماقَدْ قِیْلَ لِلرُّسُلِ، نه مراد نسبت دَساحر، کذاب، مجنون، ګمراه وغیره طعنونه کول دی ۔ دویم داچه مراد هغه وحی د توحید ده چه مخکښ رسولانوته رالیږلے شویوه۔

وَّعَرَبِيٌّ ؕ قُلْ هُوَ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا هُدًى وَّشِفَآءٌ ؕ وَالَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ فِيْٓ اٰذَانِهِمْ وَقْرٌ وَّهُوَ عَلَيْهِمْ عَمًى ؕ اُولٰٓئِكَ يُنَادَوْنَ مِنْ مَّكَانٍۢ بَعِيْدٍ ﴿۴۴﴾ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ فَاخْتُلِفَ فِيْهِ ؕ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِنْ رَّبِّكَ لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ ؕ وَاِنَّهُمْ لَفِيْ شَكٍّ مِّنْهُ مُرِيْبٍ ﴿۴۵﴾ مَنْ عَمِلَ صَالِحًا فَلِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ اَسَآءَ فَعَلَيْهَا ؕ وَمَا رَبُّكَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ ﴿۴۶﴾

او پیغمبر عربی دے ته اُوایه دا دَ مؤمنانو دپاره هدایت او شفاء ده او هغه کسان چه ایمان نه راوړی په غوږونو دَ هغوی کښ درونوالے دے او دا قرآن په هغوی باندے حجت دے دغه کسان داسے دی لکه چه اواز ورکیدے شی دوئ ته دَ ځائے لرے نه (٤٤) او یقیناً ورکړے دے مونږ موسیٰ(علیه السلام) ته کتاب (تورات) نو اختلاف کړے شویدے په هغے کښ او که چرے نه وے نیتهه دَ عذاب چه مخکښ مقرر شویده ستا دَ رب دَ طرف نه نو اوس به فیصله کړے شوے وے په مینځ دَ دوی کښ او یقیناً دوی خامخا په شك کښ دی دَ دے نه پوخ شك (٤٥) چاچه عمل کړے وی برابر دَ سنت سره نو خپلے فائدے دپاره دے او چاچه بدعمل کړے وی نو ضرر به ئے په هغه باندے وی او نه دے ستا رب هیڅ ظلم کوؤنکے په بندګانو باندے (٤٦)

[٤٤] دَ دے نه تر آخره پورے دریم باب دے په دے کښ جواب دَدریمے شبهے دے بیا سبب دَ عذاب ئے ذکر کړے چه هغه اختلاف فی الکتاب دے بیا دلیل عقلی دے سرهٔ دَ تخویف اُخروی نه بیا ځلور زجرونه دی او آخر کښ اتم دلیل عقلی دے۔ په دے (٤٤) کښ جواب دَ شبهے دَ مشرکانو دے هرکله چه دَ قرآن او دَ رسول صدق ذکرشونو منکرینو بل اعتراض اوکړو چه دا قرآن په عجمئے ژبے سره ولے نه راوړے خو معلومیږی چه دا تادَ ځان نه جوړ کړے دے نوجواب اوشو حاصل جواب دا دے چه اوس خوتاسو یوشبهه کوئے اوکه په عجمئے ژبے باندے نازل شویوے نو بیا به تاسو دوه اعتراضونه کولے یو دا لَوْلَا فُصِّلَتْ اٰيٰتُهٗ، ځکه چه کوم تفصیل او وضاحت په لغت عربیه کښ دے هغسے په نورو لغتونو کښ نیشته دویم دا ءَاَعْجَمِيٌّ وَّعَرَبِيٌّ، ایا کتاب عجمی دے او رسول عربی دے۔ فرق په مینځ دَ اعجمی اوعجمی کښ دا دے۔ اعجمی هغه دے چه هیڅ وضاحت نشی کولے برابره خبره ده که عربی وی او که غیر عربی وی اوعجمی هغه دے چه دَ عربی نسب نه نه وی اګرچه هغه هم کله فصیح وبلیغ وی پشان دَعربو ﴿اُولٰٓئِكَ يُنَادَوْنَ﴾ دا اشاره ده بل مثال دَ دوی ته یعنی دوی چه قرآن نه اوری نومثال ئے دَ هغه سړی دے چه هغه ډیر لرے وی اوخوك ورته آوازونه کوی نو هیڅ نه اوری اونه پوهیږی۔

[٤٥] داتسلّی ده نبی ﷺ ته لکه چه ستاکتاب قرآن کښ دَ دے خلقواختلاف دے نودارنګه په کتاب دَ موسیٰ علیه السلام کښ اختلاف کړے شوے وو ﴿وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ﴾ دا جواب دَ سوال دے هرکله چه قرآن حق دے او دا خلق ئے انکار کوی نو په دوی باندے عذاب ولے نه راځی حاصل دَ جواب دا دے چه دَ دوی عذاب اللّٰه تعالیٰ په حکم تقدیری سره روستو کړے دے او دا احسان دَ اللّٰه تعالیٰ دے۔

[٤٦] داذکردَ فریقینودے په وخت دَ اختلاف اودَ شك کښ اودَ هریوحال ئے ذکر کړے دے۔

اِلَيْهِ يُرَدُّ عِلْمُ السَّاعَةِ ؕ وَمَا تَخْرُجُ مِنْ ثَمَرٰتٍ مِّنْ اَكْمَامِهَا وَمَا تَحْمِلُ مِنْ اُنْثٰى وَلَا تَضَعُ اِلَّا
بِعِلْمِهٖ ؕ وَيَوْمَ يُنَادِيْهِمْ اَيْنَ شُرَكَآءِيْ ۙ قَالُوْٓا اٰذَنّٰكَ ۙ مَا مِنَّا مِنْ شَهِيْدٍ ۚ ﴿٤٧﴾ وَضَلَّ عَنْهُمْ
مَّا كَانُوْا يَدْعُوْنَ مِنْ قَبْلُ وَظَنُّوْا مَا لَهُمْ مِّنْ مَّحِيْصٍ ﴿٤٨﴾ لَا يَسْـَٔمُ الْاِنْسَانُ مِنْ دُعَآءِ الْخَيْرِ ۖ
وَاِنْ مَّسَّهُ الشَّرُّ فَيَـُٔوْسٌ قَنُوْطٌ ﴿٤٩﴾ وَلَئِنْ اَذَقْنٰهُ رَحْمَةً مِّنَّا مِنْۢ بَعْدِ ضَرَّآءَ مَسَّتْهُ لَيَقُوْلَنَّ هٰذَا
لِيْ ۙ وَمَآ اَظُنُّ السَّاعَةَ قَآئِمَةً ۙ وَّلَئِنْ رُّجِعْتُ اِلٰى رَبِّيْٓ اِنَّ لِيْ عِنْدَهٗ لَلْحُسْنٰى ۚ فَلَنُنَبِّئَنَّ الَّذِيْنَ

خاص اللّٰه تعالیٰ ته ګرځولے شی علم دَ قیامت اونه را اوځی هیڅ میوے دَ خپلو کسورونه او حمل نه اخلی هیڅ زنانه او نه زیګوی حمل مګر په علم دَ اللّٰه تعالیٰ سره او په کومه ورځ چه اواز به ورکړی دوی ته ځه شو شریکان زما (ستاسو په ګمان کښ) دوی به اُوائي خبر درکوؤ مونږ تاته نیشته زمونږ ته هیڅ ګواهی کوؤنکے (په شریك باندے)(٤٧) او روك به شی دَ دوی نه هغه (معبودان) چه بلل به دوی مخکښ دَ دے نه او دوی به ګمان اوکړی چه نیشته دوی لره دَ تختیدلو ځائے (٤٨) نه ستړے کیږی انسان (بعض) دَ دُعا غوختلو دَ خیر نه او که چرے اورسی هغه ته مصیبت نو نا امیدی کوؤنکے تندے تریوهونکے وی (٤٩) او که چرے اوځکوو مونږ انسان ته رحمت زمونږ روستو دَ تکلیف نه چه رسیدلے وی دهٔ ته خامخا وائي دے دا زما حق دے او ګمان نه کوؤم په قیامت باندے قائمیدونکے او که چرے اوګرځولے شوم ځه خپل رب ته یقیناً ما لره دَ هغه سره خامخا خوشحالی ده نو ضرور خبر به ورکړو مونږ

[٤٧] دا دلیل دے په نفی دَ علم غیب سره دَغیراللّٰه نه په درے مثالونو سره یوذکرډ علم دَ قیامت دویم علم دَ پیدا کیدلو دَ میوؤ دریم علم دَ حمل دَ زنانو او علم مستلزم دے قدرت لره نو دا ردے په مشرکانو باندے چه ستاسو شرکاء په دے کښ یو علم هم نه لری نو ولے دَ اللّٰه تعالیٰ سره شریك ګرځوئے ﴿يُرَدُّ عِلْمُ السَّاعَةِ﴾ یعنی دَهرچانه چه تپوس اوکړے شی دَ قیامت په باره کښ که پیغمبروی او که جبریل وی او که ولی وی نو هغه جواب کوی چه واللّٰه اعلم نو دغه علم اللّٰه تعالیٰ ته اوګرځوی ځکه چه پخپله پرے علم نه لری۔

[٤٨] دایوعلت دے دَ انکار دَ شرك نه یعنی دَ دوی معبودان به دَ دوی نه غائب شی یعنی امداد له ئیے نشی راتللے که بزرګان وی نوجنت ته به لاړشی اوکه ناکاره خلق وی نوهم به دَ خپلوعابدانو نه په ډډه شی اوبل علت دا دے چه دَ تیختے طرف ئیے نیشته نو مجبوراً به دَ شرکاء نه انکار کوی۔

[٤٩] دا اول زجردے یعنی لکه چه په قیامت کښ دَ دے مشرکانوحال به بدل شی نودارنګ دَ دوی حال په دنیاکښ ګډوډ وؤیعنی انسان په حال دَ طلب دَ خیرکښ هروخت زیاتے غواړی نه ستړے کیږی اونه مړیږی اومالونه، اولاد، مرتبے دَ دنیا غواړی اوپه حال دَتکلیف کښ یعنی که چرے یو دُعا دَخیر اوتمنّا دَ دنیا ئیے پوره نشی نودَ اللّٰه تعالیٰ نه نا امیدی بسکاره کوی نواللّٰه تعالیٰ سره مخالفت او دُشمنی شروع کړی۔

كَفَرُوْا بِمَا عَمِلُوْا وَلَنُذِيْقَنَّهُمْ مِّنْ عَذَابٍ غَلِيْظٍ ﴿٥٠﴾ وَاِذَآ اَنْعَمْنَا عَلَى الْاِنْسَانِ اَعْرَضَ وَنَاٰ بِجَانِبِهٖ ۚ وَاِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ فَذُوْ دُعَآءٍ عَرِيْضٍ ﴿٥١﴾ قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ كَانَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ثُمَّ كَفَرْتُمْ بِهٖ مَنْ اَضَلُّ مِمَّنْ هُوَ فِيْ شِقَاقٍ بَعِيْدٍ ﴿٥٢﴾ سَنُرِيْهِمْ اٰيٰتِنَا فِي الْاٰفَاقِ وَفِيْٓ اَنْفُسِهِمْ حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَهُمْ اَنَّهُ الْحَقُّ ؕ اَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ اَنَّهٗ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ ﴿٥٣﴾ اَلَآ اِنَّهُمْ فِيْ مِرْيَةٍ مِّنْ لِّقَآءِ رَبِّهِمْ ؕ اَلَآ اِنَّهٗ بِكُلِّ شَيْءٍ مُّحِيْطٌ ﴿٥٤﴾ ع

کافرانو ته په هغه عملونو چه دوی کړیدی او خامخا اوبه ځکوؤ مونږ دوی ته دَ عذاب ډیر سخت نه (٥٠) او کله چه نعمت اوکړو مونږ په انسان باندے نومخ واړوی او لرے کړی خپله ډ ډه اوکله چه اورسیږی دهٔ ته مصیبت نو خاوند دَ دُعا پلنے وی (٥١) ته اُوایه خبر راکړے ماته که چرے وی دا قرآن دَ طرف دَ اللّٰه تعالیٰ نه بیا کفر کوئے تاسو په دے باندے نو څوك لوئے ګمراه دے دَهغه چانه چه هغه په دُشمنئ لرے کښ وی (٥٢) زردے چه اوبه خایو مونږ دوی ته دلیلونه خپل په غاړو دَ دنیا کښ او په نفسونو دَ دوی کښ تردے چه بنه ښکاره به شی دوی ته چه دا حق دے ایا نه دے پوره رب ستا (په دے صفت سره) چه هغه په هر څیز باندے حاضر ناظر دے (٥٣) خبر شئے یقیناً دوی په شك کښ دی دَ پیښئے دَ رب خپل نه خبر شئے یقیناً هغه هر څیز لره راګیر وؤنکے دے (٥٤)

[٥٠] دا دویم زجردے په ناشکرئیے کولودَ نعمت دَ اللّٰه تعالیٰ په درے طریقوسره ﴿لَيَقُوْلَنَّ هٰذَا لِيْ﴾ یعنی دا ځما حق دے په اللّٰه تعالیٰ باندے په سبب دَ علم او دَ عَمل زما یعنی دَ اللّٰه تعالیٰ په ماباندے هیڅ احسان نیشته دے یا مراد دا دے چه ماندرونه دَ غیر اللّٰه ډیر ورکړیدی او دَ هغوی دَ قبرونو م خدمتونه کړیدی نو دَ هغے وجے نه زما دا تکلیف لرے کیدل ځما حق دے ﴿وَلَئِنْ رُّجِعْتُ اِلٰى رَبِّيْٓ﴾ یعنی اول خو دَ قیامت نه انکارکوی او بیاوائی چه پرواه مے نیشته چه ماله په دُنیا کښ زما دَ حق دَ وجے نعمتونه ئیے راکړی دی نو دارنګ په آخرت کښ زما حق دے چه ماله به جنت اوخوشحالی راکوی۔

[٥١]دادریم زجردے په ګلډوډ کارونودَانسان روستودَ ذکردَاقوالودَ دهٔ نه ﴿فَذُوْ دُعَآءٍ عَرِيْضٍ﴾ هرکله چه عرض(پلنوالے) ئیے ذکرکړونومعلومه شوه چه طول به ئیے ډیروی ځکه چه دَکوم څیز عرض وی نو طول ئیے دَ هغه نه ډیروی او مراد دے نه کثرت دے عَرِيضٍ، کښ اشاره ده چه دغه یوحاجت باربار ذکرکوی نورحاجتونه دَ اللّٰه تعالیٰ نه نه طلب کوی نو دَ یوځیز تکرار ته عرض وئیلے کیږی او دَ ډیرو حاجتونو ذکرکولوته طول وئیلے کیږی۔

[٥٢] دا ځلورم زجردے په انکار دَ قرآن سره۔

[٥٣] روستودَ زجرونونه ترغیب دے حق طرف ته اومراد دَ ایات نه دلیلونه عقلیه دی اوهغه دوه قسمونه دی یودلیلونه افاقی دی اودویم انفسی دی یا دا تخویف دے اومراد دَ ایات نه واقعات دَ قومونو مخکنو دی چه په مختلفو اطرافو دَ زمکه کښ دَ هغوی کهنډرات موجود دی اوفی انفسهم نه مراد مرضونه او تکلیفونه بدنیه دی۔

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سُوْرَةُ الشُّوْرٰى (٤٢) مَكِّيَّةٌ (٤٢) | اٰيَاتُهَا ٥٣ رُكُوْعَاتُهَا ٥

حٰمٓ ﴿١﴾ عٓسٓقٓ ﴿٢﴾ كَذٰلِكَ يُوْحِيْٓ اِلَيْكَ وَ اِلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكَ ۙ اللّٰهُ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿٣﴾

حٰمٓ (١) عٓسٓقٓ(٢) دغه شان وحی رالیږی تاته او هغه کسانو ته چه ستا نه مخکښ دی اللّٰه تعالیٰ چه زورآور او حکمت والا دے (٣)

(بقیه تفسیر دَ سورة حٰم السجدة)

[٥٤] روستودَ اثبات دَ حق نه په دلیلونوسره په منکرینو باندے زجر دے اوپه لفظ دَ اٰلآ سرهٔ ئیے ذکرکوی اشاره ده چه دَ دے منکرینوشك کول سکاره دی او دارنګ احاطه دَ اللّٰه تعالیٰ په هرشیز باندے سکاره ده۔

سورة شوریٰ

اوبل نوم ئیے سورة حٰمٓ عٓسٓقٓ دے۔

ربط : دَ دے سورة دَ ماقبل سره په ډیرو وجوهوسره دے اوله وجه دا ده چه په تیرشوی سورة کښ نهه صفات وو دَ قرآن نو په دے سورة کښ نهه صفات دی دَ قرآن والو۔ دویمه وجه دا ده چه په هغه سورة کښ زجر وو معرضینو دَ قرآن ته اوپه دے سورة کښ دعوت دے فیصلے کولوته په قرآن باندے۔ دریمه وجه داده چه سورة سجده کښ ترغیب وؤ دعوت الی اللّٰه ته او په دے سورة کښ دَ دعوت کوؤنکی لس زمه وارئے ذکرکوی۔

دعویٰ دَ دے سورة : رد دَ شرك فی الولایة دے اودَولایت دوه معنے دی تصرف اواختیار په کائناتوکښ دویمه معنیٰ اختیار دَ تشریع(یعنی شرع جوړول) اودا دعویٰ په لفظ دَ ولایت اوپه مرادف دَ هغے سره نفیاً اواثباتاً په دے ایاتونوکښ ده (٤،٩، ١١، ١٢، ١٩،٢٨،٢٩،٣٢،٤٩،٥٣) دا اثباتاً دی اوپه (٦، ٨، ٩، ٣١،٤٤،٤٦) کښ دا نفیاً دی اوپه لفظ دَحکم او تشریع اومرادف سره اثباتاً په (٣، ٧، ١٠، ١٣، ١٧، ٤٧،٥١،٥٢) کښ اونفیاً (١٤،١٦،٢١،٣٥)کښ اودارنګ په دے سورة کښ جوابونه دی دَ درے شبهاتونه۔

خلاصه دَ سورة: دا سورة تقسیم دے درے بابونوته اول باب تر(١٥) پورے دے په دے باب کښ جواب دَ اولے شبهے دے په تاکید دَ امر دَ وحی سره او اثبات دَولایت دے اللّٰه تعالیٰ لره او اثبات دَ امن دَ عالم دے په توحید سره۔ بیا نفی دَ ولایت ده دَ غیر اللّٰه نه او ترغیب دے قرآن ته بیا هم نفی دَ ولایت ده دَ غیر اللّٰه تعالیٰ نه بیا جواب دے دَ دویمے شبهے او دوه عقلی دلیلونه دی دپاره دَاثبات دَولایت لِلّٰه تعالیٰ او اثبات دَ تشریع الٰهی دے او بیا جواب دَ دریمے شبهے دے۔

تفسیر

[٢،١] دا مقطعات دی په شان دَکهٰیٰعص، هغه هم خماسی وو اوداهم۔ لیکن کهٰیٰعص پیوست لیکلے شوے دے اودا دَ ډیرو قاریانوپه نیزجدا جدا دے یعنی حٰمٓ، عٓسٓقٓ دَ دے یو وجه دا ده چه هغه یو ایت دے اودا

لَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ ؕ وَهُوَ الْعَلِیُّ الْعَظِیْمُ ۝۴ تَكَادُ السَّمٰوٰتُ یَتَفَطَّرْنَ مِنْ
فَوْقِهِنَّ وَالْمَلٰٓئِكَةُ یُسَبِّحُوْنَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَیَسْتَغْفِرُوْنَ لِمَنْ فِی الْاَرْضِ ؕ اَلَآ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ
الْغَفُوْرُ الرَّحِیْمُ ۝۵ وَالَّذِیْنَ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖۤ اَوْلِیَآءَ اللّٰهُ حَفِیْظٌ عَلَیْهِمْ ۖ وَمَاۤ اَنْتَ عَلَیْهِمْ
بِوَكِیْلٍ ۝۶ وَكَذٰلِكَ اَوْحَیْنَاۤ اِلَیْكَ قُرْاٰنًا عَرَبِیًّا لِّتُنْذِرَ اُمَّ الْقُرٰی وَمَنْ حَوْلَهَا وَتُنْذِرَ یَوْمَ

خاص دَ هغه په واك كښ دی هغه څه چه په اسمانونو كښ دی او هغه څه چه په زمكه كښ دی او هغه پورته او لوړ شان والا دے (٤) نزدے دی اسمانونه چه اوچوی دَ بره طرف نه او ملائك تسبیح وائی سره دَ حمد دَ رب خپل نه او بخنه غواړی هغه چاڅه چه په زمكه كښ دی خبرشئے یقیناً اللّٰه تعالیٰ هغه بخنه كوؤنكے رحم كوؤنكے دے (٥) او هغه كسان چه نیولی دی سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه مددگاران اللّٰه تعالیٰ ساتنه كوؤنكے دَ دوی دے او ته نه ئے په دوی باندے ذمه وار (٦) او دغه شان وحی كړیده مونږ تاته قرآن دَ عربئے ژبے دے دے دپاره چه ویره وركړے اصل دَ كلوته او چاپیره دَ هغے نه او اویروے خلقو لره دَ ورځ

دوه ایاتونه دی۔ دویمه وجه دا ده چه دَ دے سورة نور امثال محكمین او روستو كښ خمّ دے نو په دے كښ ئے هم خمّ جدا اولیكلو۔

[٣] په دے ایت كښ ترغیب دے قرآن ته چه داوحی ده دَ اللّٰه تعالیٰ پشان دَ وحی دَ انبیاء سابقینو او په دے كښ جواب دَ اولے شبهے دے شبهه دَ منكرینو دا وه چه دے پیغمبرڈ داسے څیز دعویٰ كړے ده چه دَ دهٗ نه رواندے هیڅا نه ده كړے اوس هم چه څوك دعوت توحید ته وركوی نو په هغه باندے هم داسے اعتراض كیږی۔ حاصل جواب دا دے چه دانوے څیز اونوے خبره نه ده بلكه محكمین انبیاء علیهم السلام ته هم داسے راغلے وه۔

[٤] په دے ایت كښ اثبات دَ تصرف او ولایت دے دَ اللّٰه تعالیٰ دَپاره او رد دَ شرك فی التصرف دے اودا دَ هغه وحی خلاصه ده چه محكمین ایت كښ كومه ذكرشوه نو دَ ټولے وحی حاصل توحید دے۔

[٥] په دے ایت كښ قباحت دَ شرك ذكركوی چه هغه سبب دَخرابئے دَ عالم دے اوعظمتِ شان دَ توحید چه هغه سبب دَ امن دَ دنیا دے ﴿وَالْمَلٰٓئِكَةُ یُسَبِّحُوْنَ﴾ دا جواب دَسوال دے چه هركله سبب دَانفطارموجود دے نوولے انفطارنه دے واقع شوے حاصل جواب دا دے چه مانع دَ دے نه تسبیح اوحمد استغفاردے یعنی ذكرد اللّٰه تعالیٰ په توحید سره ﴿لِمَنْ فِی الْاَرْضِ﴾ دَ دے نه مراد صرف مؤمنان دی لكه په سورة مؤمن (٧) كښ تیرشویدی۔

[٦] په دے ایت كښ زجردے په شرك فی الولایة باندے اوتسلّی ده رسول اللّٰه ﷺ ته چه اللّٰه تعالیٰ دَ دوی دَ حالاتونه خبردے كه توفیق دَ توبے وركوی لیكن په تاباندے هیڅ ذمه واری نیشته ﴿اَوْلِیَآءَ﴾ مراد دَ دے نه اختیار مند او واكدار دَ نفع وضرر دی او دارنگ اختیارمند دَ احكامو شرعیو ګنړل۔

الْجَمْعِ لَا رَيْبَ فِيْهِ ؕ فَرِيْقٌ فِي الْجَنَّةِ وَفَرِيْقٌ فِي السَّعِيْرِ ۝۷ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَجَعَلَهُمْ اُمَّةً
وَّاحِدَةً وَّلٰكِنْ يُّدْخِلُ مَنْ يَّشَآءُ فِيْ رَحْمَتِهٖ ؕ وَالظّٰلِمُوْنَ مَا لَهُمْ مِّنْ وَّلِيٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ ۝۸ اَمِ
اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖۤ اَوْلِيَآءَ ۚ فَاللّٰهُ هُوَ الْوَلِيُّ وَهُوَ يُحْيِ الْمَوْتٰى ۫ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝۹ ع
وَمَا اخْتَلَفْتُمْ فِيْهِ مِنْ شَيْءٍ فَحُكْمُهٗۤ اِلَى اللّٰهِ ؕ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبِّيْ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ ۬ؕ وَاِلَيْهِ اُنِيْبُ ۝۱۰

دَ جمع کیدلونه چه شك نیشته په هغے کښ یوډله به په جنت کښ وی او بله ډله به په بل شوی اور کښ وی (۷) او که چرے غوښتے اللّٰه تعالیٰ نو ګرځولے به ئیے وؤ دوی یوه ډله لیکن داخلوی چا لره چه اوغواړی په رحمت خپل کښ او ظالمان خلق نیشته دوی لره هیڅوك بچ کوؤنکے او نه مددګار (۸) ایا نیولی دی دوی سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه مددګاران نو اللّٰه تعالیٰ خاص هغه مددګار دے او هغه به ژوندی کوی مړی او هغه په هر څیز باندے قدرت والا دے (۹) او هغه چه اختلاف کوئ تاسو په هغے کښ چه هرڅه وی نو فیصله دَهغے (اوګرځوئ) اللّٰه تعالیٰ ته دغه ذات اللّٰه تعالیٰ رب زما دے په هغه باندے ماځخان سپارلے دے او خاص هغه ته ورګرزم (۱۰)

[۷] دا هم تسلّی ده چه ته وکیل نه ئیے لیکن انذارکوؤنکے ئیے په وحی سره اوپه دے کښ صدق دَ قرآن دے چه په دے کښ احکام شرعیه شته نورواولیاؤته ضرورت نیشته ﴿وَمَنْ حَوْلَهَا﴾ مراد دَ دے نه ټوله دنیا ده دا دلیل دے چه اخری نبی دَ ټولے دنیا دَپاره پیغمبر دے نو دَ هغه نه روستو بل پیغمبر جوړیدلو ته ضرورت نیشته۔

[۸] داجواب دَ سوال دے چه هرکله قرآن پوره هدایت دے اونبی ﷺ کامل انذارکوؤنکے دے نودا خلق ټول ولے ایمان نه راوړی حاصل جواب دا دے چه اختیار دَ هدایت دَ اللّٰه تعالیٰ سره دے۔

[۹] داهم زجردے په شرك فی الولایة باندے په اوله جمله کښ اوحصردَ ولایت دے دَ اللّٰه تعالیٰ دَپاره په دویمه جمله کښ ﴿وَهُوَيُحْيِ الْمَوْتٰى﴾ دا دلیل دَ ماقبل دے یعنی عجیبه لوئے تصرف چه بعث بعد الموت دے اوقدرت په هرځیز باندے دا دَ اللّٰه تعالیٰ صفت دے دا صفتونه دَ دوی په اولیاؤ کښ نیشته نو دَ اللّٰه تعالیٰ سره شریك نشی کیدے۔

[۱۰] په دے کښ رد دے په شرك فی التحکیم باندے اوعطف دے په رد دَ شرك فی الولایة باندے چه په مخکښ ایت کښ وؤاودا جواب دے دَ دویمے شبهے هغه دا ده چه منکرین وائي چه دا ته چه کومے مسئلے دَ توحیدکوے دا زمونږدَکتابونونه مخالف دی زمونږکتابونوکښ خودَ شرك دَ جواز دَپاره ډیرجزئیات دی۔ دا اعتراض به یهود اونصاریٰ په نبی ﷺ باندے کوؤ اومشرکین عرب ته به ئیے خودلواو اوس هم باطل پرست خلق دا اعتراض کوی حاصل جواب دا دے چه دَ تمامو اختلافاتو فیصله به په کتاب دَاللّٰه تعالیٰ اوپه سنت دَ رسول اللّٰه ﷺکوو۔ ایت کښ اشاره ده رد دَ تقلید باطل ته یعنی چه څوك دَیو سړی یا دَیوکتاب خبره کتاب دَ اللّٰه تعالیٰ اوسنت دَ رسول ته نه پیش کوی اوهسے بے دلیله ئیے منی اوچه دلیل ورته ښکاره شی نو بیاهم هغه خبره نه پریږدی نو دا تقلید باطل دے۔

فَاطِرُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ جَعَلَ لَكُمْ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ اَزْوَاجًا وَّمِنَ الْاَنْعَامِ اَزْوَاجًا ۚ يَذْرَؤُكُمْ فِيْهِ ؕ
لَيْسَ كَمِثْلِهٖ شَيْءٌ ۚ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْبَصِيْرُ ⑪ لَهٗ مَقَالِيْدُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ
يَّشَآءُ وَيَقْدِرُ ؕ اِنَّهٗ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ⑫ شَرَعَ لَكُمْ مِّنَ الدِّيْنِ مَا وَصّٰى بِهٖ نُوْحًا وَّالَّذِيْٓ
اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ وَمَا وَصَّيْنَا بِهٖٓ اِبْرٰهِيْمَ وَمُوْسٰى وَعِيْسٰٓى اَنْ اَقِيْمُوا الدِّيْنَ وَلَا تَتَفَرَّقُوْا فِيْهِ ؕ
كَبُرَ عَلَى الْمُشْرِكِيْنَ مَا تَدْعُوْهُمْ اِلَيْهِ ؕ اَللّٰهُ يَجْتَبِيْٓ اِلَيْهِ مَنْ يَّشَآءُ وَيَهْدِيْٓ اِلَيْهِ

اول پیدا کوؤنکے دَ اسمانونو او دَ زمکے دے جوړ کړیدی تاسو لره ستاسو دَ جنس نه جوړ ئیے او دَ څاروؤ نه هم جوړئے خوره وی تاسو لره په دے انتظام کښ نیشته دَ هغه پشان هیڅ څیز او هغه هرڅه اوری هر څه وینی (۱۱) خاص هغه لره کنجیانے دَ اسمانونو او دَ زمکے دی فراخوی روزی چه چا لره اوغواړی او تنګوی یقیناً هغه په هر څیز باندے عالم دے (۱۲) (بسکاره) مقرر کړیدے تاسو لره دَ دین نه هغه چه پوخ حکم ئیے کړے وؤ په هغے سره نوح(علیه السلام) ته او هغه چه وحی کړے ده مونږ تاته او هغه چه پوخ حکم کړے وؤ مونږ په هغے سره ابراهیم(علیه السلام) او موسیٰ(علیه السلام) او عیسیٰ(علیه السلام) ته چه کلك او چلوئے دین لره او ډلے مه جوړوئے په دے کښ ګران دے په مشرکانو باندے هغه دین چه ته بلنه کوے دَ دوی هغے ته اللّٰه تعالیٰ را کاکی دین ته هغه چا لره چه اوغواړی او هدایت ورکوی دے ته

[۱۱، ۱۲] دا عقلی دلیلونه دی په رد دَ شرك فی الولایة والحکم باندے په لس جملو سره اول ایت کښ شپږ جملے دی او په دویم کښ څلور جملے دی۔ حاصل ئیے دا دے چه تصرف کوؤنکے په پیدائش دَ اسمانونو اوزمکے او دَ ازواجو په انسانانو اوڅاروؤ کښ صرف اللّٰه تعالیٰ دے او بغیر دَ حاجت نه اسبابوته او اختیار مند دَخزانواودَ رزق په فراخولواوتنګولو سره اوپه هرڅیز باندے علم لرونکے صرف اللّٰه تعالیٰ دے نو دَ هغه سره په ولایت اوحکم کښ شریك مه جوړوئے ﴿يَذْرَؤُكُمْ﴾ دا فائده دَ تزویج (نکاح کولو) ذکرکوی چه افزائش دَ نسل دے دا دلیل دے چه هرهغه منصوبه چه په هغے کښ نسل کشی کیږی دَ حکمت دَ تزویج نه مخالفت کول دی اودا ناجائزده ﴿لَيْسَ كَمِثْلِهٖ شَيْءٌ﴾ په دے کښ اشاره ده چه اللّٰه تعالیٰ په دے تصرفاتو کښ اسبابوته محتاج نه دے پشان دَ مخلوق او دا رنګ په مخلوق کښ هیڅوك دَ اللّٰه تعالیٰ سره په تصرفاتو دَ الوهیت کښ مشابه اومماثل نشی کیدے نوپه دے جمله کښ نفی ده دَ تشبیه دَاللّٰه تعالیٰ دَمخلوق سره اونفی دَ اشراك دَ مخلوق دَ اللّٰه تعالیٰ سره او دا پوره مقصد دَ توحید دے۔ معلومه شوه چه دا ایت رد دے په مشبّهواومجسّمو باندے چه هغوی دَ اللّٰه تعالیٰ دپاره صفات دَ لاس اوسترګے اوپورته والے اوپه عرش باندے کیناستل وغیره ثابته وی او وائی چه داصفتونه بالکل دَ مخلوق دَ صفتونو پشان دی او څوك ورله دَ دے تشبیه سره جسم هم دَ مخلوق پشان ثابته وی او دا باطله عقیده ده اوکه څوك دَ اللّٰه تعالیٰ دَ دے صفتونونه انکارکوی په طریقه دَ تاویل لکه جهمیه اومنکرین صفات نو هغه هم صریح ګمراه دے۔

مَنْ يُّنِيْبُ ﴿١٣﴾ وَمَا تَفَرَّقُوْٓا اِلَّا مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَهُمُ الْعِلْمُ بَغْيًۢا بَيْنَهُمْ ؕ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِنْ رَّبِّكَ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى لَّقُضِيَ بَيْنَهُمْ ؕ وَاِنَّ الَّذِيْنَ اُوْرِثُوا الْكِتٰبَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ لَفِيْ شَكٍّ مِّنْهُ مُرِيْبٍ ﴿١٤﴾ فَلِذٰلِكَ فَادْعُ ۚ وَاسْتَقِمْ كَمَآ اُمِرْتَ ۚ وَلَا تَتَّبِعْ اَهْوَآءَهُمْ ۚ وَقُلْ اٰمَنْتُ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ مِنْ كِتٰبٍ ۚ وَاُمِرْتُ لِاَعْدِلَ بَيْنَكُمْ ؕ اَللّٰهُ رَبُّنَا وَرَبُّكُمْ ؕ لَنَآ اَعْمَالُنَا وَلَكُمْ

هغه چا لره چه حق ته ورګرځی (١٣) او ډلې نه دی جوړې کړی دوی مګر روستو دَ هغے نه چه راغے دوی ته علم دَ وجے دَ ضد کولو په مینځ خپل کښ او که چرے نه وے نیټه چه مقرر شویده محکښ دَ طرف دَرب ستانه تر نیټے مقررے پورے نو فیصله به شو یوه په مینځ دَ دوی کښ او یقیناً هغه کسان چه پاتے کړے شویدے دوی ته کتاب روستو دَ مشرانو نه خامخا په شك کښ دی دَ دے نه پوخ شك (١٤) نو دے دپاره ته دعوت کوه او ټینګ شه لکه چه حکم کړے شویدے تا ته او تابعداری مکوه دَ خواهشاتو دَ دوی او وایه چه ایمان راوړے دے ما په هغه چه نازل کړے دے اللّٰه تعالیٰ چه هر کتاب وی او حکم کړے شویدے ما ته چه انصاف اوکړم ستاسو په مینځ کښ اللّٰه تعالیٰ رب زمونږ او رب ستاسو دے مونږ لره عملونه زمونږ دی او تاسو لره

[١٣] په دے کښ دلیل وحی دے په رد دَ شرك في الولایة والحکم باندے یعنی اختیارد تشریع دَ احکامو صرف دَ اللّٰه تعالیٰ سره دے اودامتعلق دے دَ فحکمه الی اللّٰه سره۔ اودارنګ توحید شرع دَ اللّٰه تعالیٰ ده او انبیاء علیهم السلام دَ شرع بیان کوؤنکی دی ﴿مَاوَصّٰى بِهٖ نُوْحًا﴾ اشاره ده چه اول تشریعی پیغمبر نوح علیه السلام وؤ یعنی چه توحید اونور احکام شرعیه ئے راوړی دی سرهٔ دَ مقابلے کولونه دَ مخالفینو سره او آدم علیه السلام خواول نبی دے لیکن په هغه وخت کښ مخالفین دَ توحید او دَ شرع موجودنه وو ﴿وَمَاوَصَّيْنَا بِهٖٓ اِبْرٰهِيْمَ وَمُوْسٰى وَعِيْسٰٓى﴾ دَ دوی تخصیص دَدے وجے نه اوشو چه دَ دوی شرائع مشهور وو ﴿اَنْ اَقِيْمُوا الدِّيْنَ﴾ اقامة نه مراد چلول دَ هغه دین دی په خپل ځان کښ په عمل سره اوپه نورو خلقو کښ په دعوت سره په دلیلونو او په دفع دَ شبهاتو سره۔ اَلدِّیْنَ، مرا د دَ دے نه هغه اصول دی چه په ټولو شرائعو کښ یوشان دی چه هغه توحید، مونځ، زکوٰة، روژے، حج، طاعت دَ احکامو دَ اللّٰه تعالیٰ ،ایمانیات، تحریم دَ هرقسم، کفر اوشرك او احکام دَ زنا او قتل، دروغ، ظلم، خیانت وغیره دی ﴿كَبُرَ عَلَى الْمُشْرِكِيْنَ مَا تَدْعُوْهُمْ اِلَيْهِ﴾ د اعلت دَ اقامة الدین دے یعنی مشرکان دا دین نه غواړی او هغی پکښ تفرق پیدا کول غواړی لیکن تاسو دَ هغے اقامت کوئے ۔ په دے کښ اشاره ده چه ځوك دین اسلام او توحید او دَ هغے نور اصولوته بدګوری نو هغه مشرك دے ﴿اَللّٰهُ يَجْتَبِيْٓ اِلَيْهِ مَنْ يَّشَآءُ﴾ اجتباء او هدایت کښ یوفرق دا دے چه اجتباء نه مراد نبوّت ورکول دی او هدایت نه مراد توفیق دَ ایمان ورکول دی دویم دا چه اجتباء نه مراد توفیق دَ اقامتِ دین ورکول دی او دَ هدایت نه مراد توفیق دَ قبلولو دے اواجتباء صرف په اختیارد اللّٰه تعالیٰ سره ده په دے کښ دَ انسان دخل نیشته دَ دے وجے نه مَنْ يَّشَآءُ ئے اُوئیل او دَ هدایت دَ پاره اول انابت شرط دے دَ دے وجے نه ینیب ئے ذکر کړو۔

[١٤] په دے ایت کښ جواب دَ دریمے شبهے دے هغه دا ده چه تاسو چه دعوت ورکوئے کوم دین ته دَ

اَعْمَالُكُمْ ؕ لَا حُجَّةَ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ ؕ اَللّٰهُ يَجْمَعُ بَيْنَنَا ۚ وَاِلَيْهِ الْمَصِيْرُ ﴿۱۵﴾ وَالَّذِيْنَ يُحَآجُّوْنَ
فِي اللّٰهِ مِنْۢ بَعْدِ مَا اسْتُجِيْبَ لَهٗ حُجَّتُهُمْ دَاحِضَةٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَعَلَيْهِمْ غَضَبٌ وَّلَهُمْ
عَذَابٌ شَدِيْدٌ ﴿۱۶﴾ اَللّٰهُ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ وَالْمِيْزَانَ ؕ وَمَا يُدْرِيْكَ لَعَلَّ السَّاعَةَ

عملونه ستاسو دی نیشته هیڅ جګړه په مینځ زمونږ او په مینځ ستاسو کښ اللّٰه تعالیٰ به جمع کوی په مینځ زمونږ کښ او خاص هغه ته ګرځیدل دی (۱۵) او هغه کسان چه جګړه کوی په توحید دَ اللّٰه تعالیٰ کښ روستو دَ هغے نه چه قبولیت کړے شویدے دَ هغے نو دلیل دَ دوی باطل دے په نیز دَ رب دَ دوی او په دوی باندے غضب دے او دوی لره عذاب سخت دے (۱۶) اللّٰه تعالیٰ هغه ذات دے چه نازل کړے دے کتاب دَ حق دپاره اوتله او څه ځیز تاله خبر درکوی په باره دَ قیامت کښ یقیناً قیامت څو

دے نه ډیرعلماء مخالفت کوی نومعلومیږی چه دا دین صحیح نه دے؟ حاصل دَ جواب دا دے چه مخالفت دَ دے علماؤ ته اعتبار نیشته ځکه چه دَ دوی تفرق اواختلاف دَعلم اودلیل نه مخالف هم دے اودارنګه دَ دوی مخالفت په ضد اوعناد باندے بنادے ﴿وَاِنَّ الَّذِيْنَ اُوْرِثُوا الْكِتٰبَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ﴾ مراد دَ دے نه هغه عوام اونیمګړی ملایان دی چه دَ کتاب وارثان دی یعنی پوره علم ئے نه دے حاصل کړے حاصل دا دے چه غټوملایانو دَ ضِد اوعناد دَ وجے نه دَ توحید او دَ حق دین مخالفت اوکړو او دَ هغے په مقابله کښ ئے دَشرك کتابونه اولیکل روستونیمګړی ملایانواوامیانودَغټوعلماؤموافقت ئے اوکړواودَکتاب دَشرك تقلیدئے اوکړو اودَ توحید نه ئے انکار اوکړو۔

[۱۵] دَ دے ایت نه تر(۳۵)پورے دویم باب دے په دے کښ ترغیب دے دعوت ته په لس جملوسره بیازجردے مقابله کوؤنکوته اوهغوی ته دعوت دَ قرآن دے سرهٗ دَ تخویف نه بیا دریم دلیل عقلی دے سرهٗ دَ تزهید فی الدنیا نه بیایوزجردے په شرك فی التحکیم سره اوتخویف اوبشارت دے اودویم زجردے په انکاردَ رسول سره دَ ترغیب الی التوبه نه۔ بیا درے عقلی دلیلونه دی اوبیا تخویف دنیوی دے اودلیل عقلی دے، په دے (۱۵)کښ ترغیب دے دعوت ته اودا علاج دے دپاره دَ دفع کولودَ تفرق چه مخکښ ایت کښ تیرشواوپه دے کښ دَ داعی دَپاره لس جملے ذکرکوی اودا آداب دَ دعوت دی ﴿فَلِذٰلِكَ فَادْعُ﴾ معنیٰ دا ده دَ وجے دَ دفع کولودَ تفرق اواختلاف نه دعوت دَ حق کوه، یالام په معنیٰ دَالی دے اوذالك اشاره ده دین دَ توحید ته چه په (۱۳)کښ ذکرشوے وؤیا اشاره ده قرآن ته ﴿اَهْوَآءَهُمْ﴾ مراد ترینه بے دلیله مسئلے دی چه ملایانودَ ځان نه جوړے کړے دی ﴿وَقُلْ اٰمَنْتُ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ﴾ یعنی هرکله چه مخالفین استدلال کوی په نورو کتابونودَپاره دَاثبات دَشرك او بدعت نوته جواب کښ اُوایه چه ځه صرف منزّل کتاب باندے ایمان لرم۔

[۱۶] داتسلّی ده دعوت کوؤنکی ته چه ستا دَ مخالفینودلیلونه باطل اوبے کاره دی دَ هغے پرواه مه کوه۔﴿اسْتُجِيْبَ لَهٗ﴾ یعنی هوبنیاروخلقودَ اللّٰه تعالیٰ دعوت دَ توحید قبول کړے دے، نوداهم یو الزامی حجت دے په منکرینوباندے۔

قَرِيْبٌ ﴿۱۷﴾ يَسْتَعْجِلُ بِهَا الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِهَا ۚ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مُشْفِقُوْنَ مِنْهَا ۙ وَيَعْلَمُوْنَ اَنَّهَا
الْحَقُّ ؕ اَلَآ اِنَّ الَّذِيْنَ يُمَارُوْنَ فِي السَّاعَةِ لَفِيْ ضَلٰلٍۢ بَعِيْدٍ ﴿۱۸﴾ اَللّٰهُ لَطِيْفٌۢ بِعِبَادِهٖ يَرْزُقُ مَنْ
يَّشَآءُ ۚ وَهُوَ الْقَوِيُّ الْعَزِيْزُ ﴿۱۹﴾ مَنْ كَانَ يُرِيْدُ حَرْثَ الْاٰخِرَةِ نَزِدْ لَهٗ فِيْ حَرْثِهٖ ۚ وَمَنْ كَانَ يُرِيْدُ
حَرْثَ الدُّنْيَا نُؤْتِهٖ مِنْهَا ۙ وَمَا لَهٗ فِي الْاٰخِرَةِ مِنْ نَّصِيْبٍ ﴿۲۰﴾ اَمْ لَهُمْ شُرَكٰٓؤُا شَرَعُوْا لَهُمْ مِّنَ

نزدے دے (۱۷) په تلوارے غواړی دے لره هغه کسان چه ایمان نه راوړی په دے باندے او هغه کسان چه ایمان راوړی او یریږی دَ قیامت نه او یقین کوی چه یقیناً دا (قیامت) حق دے خبر شئے یقیناً هغه کسان چه جګړه کوی په باره دَ قیامت کښ خامخا په ګمراهئ لرے کښ دی (۱۸) اللّٰه تعالیٰ پوره مهربانی کوی دَ بندګانو خپلو سره روزی ورکوی چا له چه او غواړی او اللّٰه تعالیٰ قوت والا دے زورآور دے (۱۹) څوك چه اراده کوی (په عمل خپل سره) کتهٔ دَ اخرت زیات ورکوؤ مونږ دهٔ لره په کتهٔ دَ هغه کښ او څوك چه اراده کوی په عمل خپل سره کتهٔ دَ دنیا ورکوؤ مونږ دهٔ ته دَ هغے نه او نه به وی دهٔ لره په اخرت کښ هیڅ برخه (۲۰) ایا شته دے دَ دوی شریکان (دَ اللّٰه تعالیٰ سره) چه جوړ کړے وی دوی لره دَ

[۱۷] په دے کښ ترغیب دے حجت دَ اللّٰه تعالیٰ ته روستودَابطال دَحجت دَمخالفینونه ﴿الْكِتٰبَ﴾ مرادترینه جنس کتابونه مخکنی دی﴿وَالْمِيْزَانَ﴾مراد دَ دے نه قرآن کریم دے یا مراد دواړونه قرآن دے اوعطف دَصفت دے په صفت باندے یامراد دَ المیزان تحقیق دَ دلیلونودے دَپاره دَفرق دَحق اوباطل دَ دے دپاره چه دَطریقے دَ اهل جهل اوتقلیدنه بچ شی۔(سراج المنیر)

[۱۸] په دے کښ ذکرد حال دَ قیامت دے او زجردے منکرینوته په استعجال او مِراء (جګړه کولو) سره اومدح دَ مؤمنانو ده په اشفاق او یقین کولو باندے۔

[۱۹] دا دلیل عقلی دے په رد دَ شرك فی الولایة والحکم باندے او ﴿لَطِيْفٌۢ بِعِبَادِهٖ﴾ کښ اشاره ده چه لوئے لطف اومهربانی انزال دَ قرآن دے۔ تفسیر قرطبی کښ دَ لطیف شل معنے ذکرکړی دی اوامام رازی وئیلی دی چه دا لفظ مشتمل دے په دے اوصافو دَ علم باندے په باریکو امورو سره او رحمت خاصه دے اورفق (مهربانی) ده۔

[۲۰] روستودَ ذکرکولودَ رزق دَ دنیانه تزهید فی الدنیا اوترغیب اخرت ذکرکوی ﴿حَرْثَ﴾ کرونده کول دی مراد دَ دے نه جزاء ده او بِعَمَلِهٖ پټ دے یعنی په نیك عمل کښ اراده دَ جزاء دَ آخرت کوی یا بِرِزْقِهٖ پټ دے یعنی کوم مال چه اللّٰه تعالیٰ ورکړے دے نو په هغے سره آخرت کتهٔ ﴿نَزِدْ لَهٗ فِيْ حَرْثِهٖ﴾ په دنیاکښ زیادت دا دے چه مال کښ ورله برکت اچوی اودَ نیك اعمالوتوفیق ورکوی ﴿وَمَنْ كَانَ يُرِيْدُ حَرْثَ الدُّنْيَا﴾ یعنی مال ذریعه اوګرځوی دَ دنیا دَ رفعت اوعزت حاصلولو دَپاره یا په نیك عمل کښ اراده دَ دنیا کوی یعنی عبادت اودَ دین کارقرآن لوستل وغیره دَ دنیا په نیت باندے کوی ﴿وَمَا لَهٗ فِي الْاٰخِرَةِ مِنْ نَّصِيْبٍ﴾ په دے کښ اشاره ده چه چاپه یونیك عمل سره دَ دنیا اقتدار یا اجرت اراده کړے وی نوهغه اجرت اخستل به یا جائزوی یا ناجائزلیکن آخرت کښ به ئیے ثواب برباد وی۔

الدِّيْنِ مَا لَمْ يَاْذَنْ بِهِ اللّٰهُ ؕ وَلَوْلَا كَلِمَةُ الْفَصْلِ لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ ؕ وَ اِنَّ الظّٰلِمِيْنَ لَهُمْ عَذَابٌ
اَلِيْمٌ ﴿۲۱﴾ تَرَى الظّٰلِمِيْنَ مُشْفِقِيْنَ مِمَّا كَسَبُوْا وَهُوَ وَاقِعٌۢ بِهِمْ ؕ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فِيْ
رَوْضٰتِ الْجَنّٰتِ ۚ لَهُمْ مَّا يَشَآءُوْنَ عِنْدَ رَبِّهِمْ ؕ ذٰلِكَ هُوَ الْفَضْلُ الْكَبِيْرُ ﴿۲۲﴾ ذٰلِكَ الَّذِيْ يُبَشِّرُ
اللّٰهُ عِبَادَهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ؕ قُلْ لَّاۤ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ اَجْرًا اِلَّا الْمَوَدَّةَ فِي الْقُرْبٰى ؕ

دین نه هغه خبرے چه اجازت نه دے ورکړے دَ هغے اللّٰه تعالیٰ او که چرے نه وے نیټه لیکلے شوے دَ فیصلے نو فیصله به (اوس) کړے شوے وے په مینځ دَ دوی کښ او یقیناً ظالمان دوی لره عذاب درد ناك دے (۲۱) وینے به ته ظالمان ویریدونکی دَ هغه عملونونه چه دوی کړی دی او (سزا) دَ هغے به را پریوځی په دوی باندے او هغه کسان چه ایمان ئے راوړے وی او عملونه ئیے کړے دی برابر دَ سنت سره په باغیچو دَ جنتونو کښ به وی دوی لره به هغه څه وی چه دوی غواړی په نیز دَ رب دَ دوی دا فضل ډیر لوے دے (۲۲) دا هغه څیز دے چه زیرے ورکوی اللّٰه تعالیٰ بندګانو خپلو ته دا هغه کسان دی چه ایمان ئیے راوړے دے او عملونه ئیے کړیدی په برابر دَ سنت سره ته اُوایه څه نه غواړم ستاسونه په دے باندے هیڅ بدله مګر چه مینه او کړئے په نزدیکت دَ اللّٰه تعالیٰ کښ

[۲۱] دا زجردے په شرك فی التشریع والحکم باندے متعلق دے دَ (۱۳) او(۱۷) سره۔ یعنی په شرع اوکتاب دَ اللّٰه تعالیٰ کښ خوشرك اودا کارونه مشرکانه جائزنه دی نو ایا داکارونه دوی لره نورو آلِهؤجائزګرځولی دی اونورآلهه سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ خونشی کیدے نومعلومه شوه چه شرك کول په ټولوانواعوسره جائزنه دی او دَد ے ایت نه ډیرے مسئلے معلومیږی اوله دا چه یوقسم دَ اقسامودَ شرك نه شرك فی الحکم والتشریع دے او دیته شرك فی الاطاعة اوشرك فی التحلیل والتحریم هم وئیلے کیږی، دویمه داچه شارع په حقیقت کښ یواللّٰه تعالیٰ دے که چرے پیغمبرباندے اطلاق کړے شویوی نوهغه به په معنیٰ دَ شرع بیا نوونکی وی۔ دریمه مسئله ائمه مجتهدین شرع جوړ وؤنکی نه دی بلکه دَ دلیل شرعی نه احکام راویستونکی دی نو کله به صحیح وی او کله به خطا وی۔ څلورمه مسئله یوامام مجتهد یا مفسر، استاد، پیر دَ تحلیل اوتحریم اختیار مندګنړل داهم شرك دے، پنځمه مسئله دَ کم یوعالم او پیر په کارونودَ شرك او بدعاتواوفسق وفجورکښ تابعداری کول دا تقلید شرکی دے۔ شپږمه مسئله دَیوامام مجتهد تقلیدپداسے طریقه کول چه ایات قرآنیه اوحدیث صحیحه صریح نه قول دَ هغهٔ مخالف ښکاره شی لیکن بیاهم په قول دَ هغه امام باندے عمل کوی په دے بهانے سره چه دے زمونږنه ښه پوهیدلودا تقلید هم ګمراهی ده۔

[۲۲] په دے ایت کښ دوه ډلے ذکرکوی یوشرك فی التشریع کوؤنکے نو هغوی ته تخویف اُخروی ورکوی اودویمه ډله مؤحدین چه په دلیل شرعی پسے روان وی نو هغوی ته بشارت اُخرویه ورکوی ۔

وَمَنْ يَّقْتَرِفْ حَسَنَةً نَّزِدْ لَهٗ فِيْهَا حُسْنًا ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ شَكُوْرٌ ﴿۲۳﴾ اَمْ يَقُوْلُوْنَ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ
كَذِبًا ۚ فَاِنْ يَّشَاِ اللّٰهُ يَخْتِمْ عَلٰى قَلْبِكَ ؕ وَيَمْحُ اللّٰهُ الْبَاطِلَ وَيُحِقُّ الْحَقَّ بِكَلِمٰتِهٖ ؕ اِنَّهٗ عَلِيْمٌۢ
بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿۲۴﴾ وَهُوَ الَّذِيْ يَقْبَلُ التَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهٖ وَيَعْفُوْا عَنِ السَّيِّاٰتِ وَيَعْلَمُ مَا

او چاچه اوکړه نیکی زیاتوؤ مونږ دهٔ لره په هغے کښ خائست یقیناً اللّٰه تعالیٰ بخنه کوؤنکے قبلوونکے دَ عملونو دے (۲۳) ایا دوی وائي چه جوړ کړیدی دهٔ په اللّٰه تعالیٰ باندے دروغ نو که اوغواړی اللّٰه تعالیٰ مهر به اولګوی (که دروغ ئیے جوړ کړے وی) ستا په زړه باندے او ورانوی اللّٰه تعالیٰ باطل لره او ښکاره کوی حق لره په خپلو کلمو سره یقیناً اللّٰه تعالیٰ پوهه دے په هغه خبرو چه په سینو کښ دی (۲۴) او اللّٰه تعالیٰ هغه ذات دے چه قبلوی توبه دَ بندګانو خپلو نه او معافے کوی دَ بدو نه او پوهه دے په هغه کارونو

[۲۳] دَ آیت په اول کښ تاکید دے دَ تیرشوی بشارت،اوتاکید په پنځه طریقوسره دے ﴿قُلْ لَّآ اَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ اَجْرًا﴾ هرکله چه په بشارت ورکولوکښ عادتًا خلق عوض غواړی اوهغه دَ اخلاص نه خلاف ده نو اوئیلے شوچه پیغمبرﷺ په دے باندے هیڅ عوض نه غواړی نه سوال حقیقتاً اونه سوال حکماً یعنی طمع لرل هم نه کوی ﴿اِلَّا الْمَوَدَّةَ فِي الْقُرْبٰى﴾ یعنی ځکه هیڅ قسم اجرنه غواړم اوفرض کړئے که چرے مودة فی القربیٰ اجروی نوهغه غواړم لیکن هغه خواجرنه دے ځکه اجر دُنیوی هغه څیزته وئیلے کیږی چه په هغه سره دنیوی ترقی اجیرته حاصلیږی اوپه مودة فی القربیٰ سره خو فائده پیغمبر ته نه رسیږی اونه په هغے سره دُنیوی ترقی دَ هغه حاصلیږی۔

فائده: المودة فی القربیٰ کښ درے قولونه دَ مفسرینودی اول قول دَ مجاهد اودَ حسن بصری دے اوقول دَمجاهد لره قرطبی په سند مرفوع سره نقل کړے دے هغه دا دے، چه غواړم ستاسونه داخبره چه مؤدت دَ اللّٰه تعالیٰ سره اوکړئے او هغه ته تقرب حاصل کړئے په طاعت سره، نوقربیٰ، په معنیٰ دَ تقرب الی اللّٰه دے اودائیے طرف دَمؤدت ګرځولے دپاره دَتاکید اودَ مبالغے، دویم قول دَ شعبی او دَابن عباس رضی اللّٰه عنهما نه نقل دے چه قربیٰ په معنیٰ دَ قرابت نسبی دَ رسول اللّٰهﷺ دے چه دَ قریشودَ ټولوخاندانونو سره دَ هغه خپلولی وه نو معنیٰ دا ده، چه ځه خوستاسو نه هیڅ اجرنه غواړم لیکن غواړم چه تاسولحاظ اوکړئے زما دَ قرابت اودَ خپلولے، دریم قول دَکلبی اوسدی نه نقل دے چه مراد دَ قربیٰ نه ذوی القرابت دَنبیﷺ دی چه هغه اهل بیت دَ هغه دی یعنی ځه ستاسونه هیڅ نه غواړم لیکن دا غواړم چه زما دَ اهل بیتوسره مؤدت اومحبت کوئے هغوی ته اذیت مهٔ ورکوئے، اوهغه دَ هغهٔ ازواج مطهرات او آل دی ـنواحترام اومحبت دَ ال دَ رسول اللّٰهﷺ اودَ بیبیانودَ هغه سره لازم دے په امت باندے لیکن بغیرد افراط اوتفریط نه۔

[۲۴] دازجردے په انکار دَ رسول یعنی هغه څوک چه مودة فی القربیٰ نه کوی بلکه الټه هغه ته نسبت دَ افتراء کوی ﴿فَاِنْ يَّشَاِ اللّٰهُ يَخْتِمْ عَلٰى قَلْبِكَ﴾ دَفتاده په نیزمعنیٰ دا ده، که اوغواړی اللّٰه تعالیٰ (په هغه وخت چه په زړه ستاکښ اراده دَ افتراء راشی) نوستاپه زړه باندے به مهراولګوی، بیا په هیڅ باندے به نه پوهیږے۔ اودَ مجاهد په نیز دَ یختم معنیٰ یربط اویصبرده اوان په معنیٰ دَ اذا سره دے یعنی اللّٰه تعالیٰ به ستا

تَفْعَلُوْنَ ﴿۲۵﴾ وَيَسْتَجِيْبُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَيَزِيْدُهُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ ؕ وَالْكٰفِرُوْنَ لَهُمْ
عَذَابٌ شَدِيْدٌ ﴿۲۶﴾ وَلَوْ بَسَطَ اللّٰهُ الرِّزْقَ لِعِبَادِهٖ لَبَغَوْا فِي الْاَرْضِ وَلٰكِنْ يُّنَزِّلُ بِقَدَرٍ مَّا يَشَآءُ ؕ
اِنَّهٗ بِعِبَادِهٖ خَبِيْرٌۢ بَصِيْرٌ ﴿۲۷﴾ وَهُوَ الَّذِيْ يُنَزِّلُ الْغَيْثَ مِنْۢ بَعْدِ مَا قَنَطُوْا وَيَنْشُرُ رَحْمَتَهٗ ؕ وَهُوَ
الْوَلِيُّ الْحَمِيْدُ ﴿۲۸﴾ وَمِنْ اٰيٰتِهٖ خَلْقُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَثَّ فِيْهِمَا مِنْ دَآبَّةٍ ؕ وَهُوَ عَلٰى جَمْعِهِمْ اِذَا

چه تاسو کوئے (۲۵) او قبلوی اللّٰه تعالیٰ (عملونه او دُعا) دَ هغه کسانو چه ایمان ئیے راوړے دے او عملونه ئیے کړی دی موافق دَ سنت سره او زیاتی ورکوی دوی ته دَفضل خپل نه او کافران چه دی دوی لره عذاب سخت دے (۲۶) او که فراخه کړے وے اللّٰه تعالیٰ روزی بندګانو خپلو لره خامخا سرکشی به ئیے کړے وے په ملك کښ لیکن رالیږی اللّٰه تعالیٰ په اندازے سره څو مره چه اوغواړی یقیناً اللّٰه تعالیٰ په بندګانو خپلو باندے خبر دار لیدونکے دے (۲۷) او اللّٰه تعالیٰ هغه ذات دے راوروی باران روستو دَ نا امیده کیدلو دَ خلقو نه او خوره وی رحمت خپل او هغه اختیار مند ستائیلے شویدے (۲۸) او بعضِ دَ دلیلونودَ توحید نه پیدائش دَ اسمانونو او دَ زمکے دے او هغه چه خواره کړیدی په دے دواړو کښ دَ زنده سرونه او اللّٰه تعالیٰ دَ دوی په جمع کولو باندے کله چه

زړه کښ ربط او صبر پیداکوی په وخت دَ انکار دَ دوی کښ ﴿الْبَاطِلَ﴾ نه مراد شبهات دَ منکرینو دی چه یوه شبهه دَ هغے نه نسبت دَ افتراء کول دی پیغمرﷺ ته۔

[۲۵] ترغیب دے توبے کولوته دَ انکار دَ نبیﷺ نه۔

[۲۶] دا نوراکرام اوبشارت دَمؤمنانوذکرکوی ﴿وَيَسْتَجِيْبُ﴾ داعام دے دعاګانے قبلول اوعبادتونه قبلول اوسفارشونه دَ نورورونړو دَپاره ټولوته شامل دے اودَ زیات تاکید دَ پاره ئیے یستجیب متعدی بالذات اوګرځوؤ۔

[۲۷]د اجواب دَسوال دے چه هرکله اللّٰه تعالیٰ دَ مؤمنانودُعاګانے قبلوی نوکله چه دوی فراخی دَمال غواړی نوولے نه ورکوی حاصل جواب دا دے چه فراخی دَ رزق سبب دَ بغاوت دے نو دا دُعا دَ دوی دپاره سبب دَ خیرنه دے دَدے وجے نه ئیے نه قبلوی۔ (سوال) ډیر انبیاء صحابه کرام، اولیاء شته چه دَ هغوی رزق فراخ وؤ لیکن بغی ئیے خونه ده کړے؟ (جواب) اول دادے چه مراد دَ فراخے نه دَټولودپاره یوشان فراخی ده یعنی که ټول بندګان مالدار شی نو یوبل ته به ئیے حاجت پاتے نشی نو دَهریان به شی۔ نظام عالم به خراب شی عبادات مالیه به دَ دُنیانه ختم شی نودَ دے وجے اللّٰه تعالیٰ بعض مالدارکړل اوبعض فقیران۔ دویم جواب دا دے چه مراد دَ دے نه بعضِ خاص مؤمنان مراد دی چه اللّٰه تعالیٰ دَ هغوی دَحال نه خبردے که چرے هغوی له مالداری ورکړی نو فسادونه اوګناهونه به شروع کړی یا به زیاتی غواړی او په دنیا باندے به نه مړیږی۔

[۲۸] دا دلیل عقلی دے په توحید باندے۔

يَشَآءُ قَدِيْرٌ ﴿٢٩﴾ وَمَآ اَصَابَكُمْ مِّنْ مُّصِيْبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ اَيْدِيْكُمْ وَيَعْفُوْا عَنْ كَثِيْرٍ ﴿٣٠﴾ وَمَآ اَنْتُمْ
بِمُعْجِزِيْنَ فِى الْاَرْضِ ۖ وَمَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ ﴿٣١﴾ وَمِنْ اٰيٰتِهِ الْجَوَارِ فِى الْبَحْرِ
كَالْاَعْلَامِ ﴿٣٢﴾ اِنْ يَّشَاْ يُسْكِنِ الرِّيْحَ فَيَظْلَلْنَ رَوَاكِدَ عَلٰى ظَهْرِهٖ ۗ اِنَّ فِىْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ
شَكُوْرٍ ﴿٣٣﴾ اَوْ يُوْبِقْهُنَّ بِمَا كَسَبُوْا وَيَعْفُ عَنْ كَثِيْرٍ ﴿٣٤﴾ وَّيَعْلَمَ الَّذِيْنَ يُجَادِلُوْنَ فِىْٓ اٰيٰتِنَا ۗ مَا

اوغواړی قدرت لرونکے دے (۲۹) او هغه چه اورسیږی تاسو ته څه مصیبت نو په وجه دَ هغه عمل سره دے چه کړیدے لاسونو ستاسو او معافے کوی دَ ډیرو نه (۳۰) او نه ئیے تاسو عاجز کوؤنکی اللّٰه تعالیٰ لره په ټول ملك کښ او نیشته تاسو لره سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه هیڅ بچ کوؤنکے او نه مددګار (۳۱) او بعض دَ دلیلونو دَ توحید دَ هغه نه روانے کشتئے دی په دریاب کښ پشان دَ غرونو (۳۲) که چرے اوغواړی اللّٰه تعالیٰ نو اوبه د روی هوا نو همیشه به وی کشتئے ولاړے په شا دَ دریاب باندے یقیناً په دیکښ ډیر دلیلونه دی هر ډیر صبرناك ډیر شکرګذار د پاره (۳۳) یا به هلاکے کړی کشتئے په وجه دَ عملونو او معافے کوی دَ ډیرو نه (۳٤) او چه یقین اوکړی هغه کسان چه جګړه کوی په اٰیاتونو زمونږ کښ چه نیشته

[۲۹] دابل دلیل عقلی دے په رد دَ شرك فی الولایة باندے اودا دلیل په ډیرودلیلونوباندے مشتمل دے ځکه چه علوی اوسفلی او وسطی نظام ئیے پکښ ذکرکړے دے اودَ توحید سره دَقیامت اثبات ئیے ذکرکړے دے ﴿مِنْ دَآبَّةٍ﴾(سوال) دَآبَّة، هغے ته وائي چه په زمکه ګرځی اوهغه په عرف کښ څاروی دی بلکه آسونوته وئیلے کیږی نوپه ملائکو باندے څه رنګ اطلاق صحیح کیږی؟ اول جواب دادے چه مراد دَآبة نه هرذی روح حرکت کوؤنکے دے نوملائکوته هم وئیلے کیدے شی۔ دویم جواب دا دے چه فیهمانه مراد یودے یعنی زمکه اودَ تثنیے ضمیرکله دَ یودَپاره استعمالیږی۔ لکه یخرج منهما اللؤلؤ والمرجان لیکن دا په هغه ځیزکښ ذکرکیږی چه د وؤځیزونونه یوشے پیداشوے وی۔ نودَدابے په پیداکیدلوکښ آسمانی اوارضی اسباب دَ دواړو شرکت دے لکه چه دَ لؤلؤ مرجان په پیداکیدلوکښ دَ دواړه قسمه اوبواختلاط دے۔ دریم جواب دا دے چه آسمانی بعضِ ملائکوباندے دَ اوعال(صحرائی پیسانو) اطلاق په یوحدیث کښ کړے شویدے چه دَ هغوی دَ زنګانونه ترسوؤ پورے دومره فاصله ده لکه په مینځ دَ آسمان اوزمکے کښ۔

[۳۰،۳۱] داتخویف دُنیوی دے یعنی ګناهونه سبب دَ مصیبت اودَ عذاب دُنیوی دی دا خطاب دے مؤمنانوته چه دَ هغوی دَبعض ګناهونوعقوبت په دنیاکښ ورکوی په ذریعه دَ مرضونو، غمونو، قرضونو وغیره سره اوډیرګناهونه ورته بغیرد عقوبت نه معاف کړی ﴿وَمَآ اَنْتُمْ بِمُعْجِزِيْنَ﴾ دَعذاب نه بچ کیدلودَپاره درے طریقے دی یودَانسان خپل قوت او زور دے نوهغه ئیے نفی کړوپه دے جملے سره اودویمه طریقه په ذریعه دَ دوست سره اودریمه طریقه نفس مددګار اګرچه دوست نه وی نو هغه ئیے رد کړو په روستو جملے سره۔

[۳۲،۳۳،۳٤،۳۵] دا بل دلیل عقلی دے په توحید باندے چه تعلق لری دَتصرف سره په دریابونو کښ او ورسره تخویف دَ عذاب دے په دریاب کښ ﴿صَبَّارٍ شَكُوْرٍ﴾ مراد دَ صبار وشکورنه مؤمن دے اوهرکله چه

لَهُمْ مِّنْ مَّحِيْصٍ ﴿۳۵﴾ فَمَآ اُوْتِيْتُمْ مِّنْ شَيْءٍ فَمَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ خَيْرٌ وَّاَبْقٰى لِلَّذِيْنَ
اٰمَنُوْا وَعَلٰى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ ﴿۳۶﴾ وَالَّذِيْنَ يَجْتَنِبُوْنَ كَبٰٓئِرَ الْاِثْمِ وَالْفَوَاحِشَ وَاِذَا مَا غَضِبُوْا هُمْ يَغْفِرُوْنَ ﴿۳۷﴾
وَالَّذِيْنَ اسْتَجَابُوْا لِرَبِّهِمْ وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ ۪ وَاَمْرُهُمْ شُوْرٰى بَيْنَهُمْ ۪ وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ﴿۳۸﴾ وَالَّذِيْنَ

دوی لره هیڅ ځائے دَ تختیدلو (۳۵) نو هغه چه درکړے شویدے تاسوته هر څیز چه دے نو سامان دَ مزے دَ ژوند دُنیوی دے او هغه چه دَ اللّٰه تعالیٰ سره دے غوره دے اوهمیشه دے دپاره دَ هغه چاچه ایمان لری او په خپل رب باندے توکل کوی (۳۶) او هغه کسان چه ډډه کوی دَ غټ ګناهونو او دَ بشکاره بدکارونه او کله چه دوی غصه شی نو دوی بخنه کوی (۳۷) او هغه کسان چه قبلوی حکمونه دَ رب خپل او پابندی کوی دَ مونځ او کار دَ دوی مشوره کول دی په مینځ دَ دوی کښ او دَ هغه مال نه چه مونږ ورکړے دے دوی ته خرچ کوی (۳۸) او هغه کسان

سفردَ دریاب کښ ډیرخطرات وی نودَ هغے دپاره ډیرصبر پکاردے اودَ هغے نه په نجات موندلوکښ ډیرنعمتونه دی نوپه هغے باندے ډیرشکرپکاردے دَ دے وجے نه په سورة لقمان(۳۱)کښ هم دَ سفردَ دریاب سره دا صفت ذکرکړے دے﴿وَيَعْلَمَ﴾ دامتعلق دے دَ دواړه حالتونوسره یعنی هرکله چه کشتئی او دروی یا غرقه ئیے کړی نودغه وخت کافران مشرکان پوهه شی چه زمونږ معبودان مونږ له نجات نشی راکولے بلکه صرف اللّٰه تعالیٰ ته چغے وهی لکه دا سورة یونس،عنکبوت،لقمان کښ تیرشویدی۔

[۳۶] دے کښ تزهید فی الدنیا دے یعنی چاله چه اللّٰه تعالیٰ کشتئی ورکړے وی اوپه معتدله هوا ګانو کښ ګرځوی اودَ غرق نه بچ وی دا خودَ دُنیا لږه فائده ده نوپه دے سره تکبرکول اوشرك کول اوتوحیدَ اللّٰه تعالیٰ هیرول جائزنه دی ﴿لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا﴾ دَ آخرت دَ نعمتونودَ حصول دپاره ذریعه نهه صفتونه ذکرکوی اوپه دے ایت کښ دوه ذکرکړی دی، ایمان، توکل کول په اللّٰه تعالیٰ باندے په اول صفت کښ اشاره ده دَ شرك جلی نه بچ کیدلوته اوپه دویم کښ اشاره ده ځان بچ کول دَ شرك خفی نه ځکه چه په توکل کښ دا معنیٰ ده چه دَ اللّٰه تعالیٰ نه سیوا بل هیڅ څیزته التفات نه کوی۔

[۳۷] په دے کښ دریم اوڅلورم صفت ذکرکوی۔ هغه دواړه مخکنی ایجابی صفتونه وو اودا دواړه سلبی صفتونه دی ﴿كَبٰٓئِرَ الْاِثْمِ﴾ هرهغه ګناه چه دَ هغے عقوبت ډیراوسخت وی شرك، قتل، زنا، غلا، دَ مورپلار نافرمانی، جادو، په دروغه قسم کول بهتان وغیره داکبیره دی ﴿وَالْفَوَاحِشَ﴾ دا خاص دے پس دَ عام نه یعنی ګناهونو کښ هغه چه عقل اوطبع ترینه هم نفرت کوی او دَ هغے قباحت هرعقل والاته بشکاره وی لکه زنا،دروغ، دهوکه، خیانت وغیره په کښ داخل دی ﴿وَاِذَا مَا غَضِبُوْا هُمْ يَغْفِرُوْنَ﴾ مخکښ حقوق اللّٰه ذکر وو اوپه دے کښ حقوق العباد ذکرکوی اودا صفت دَ اعتدال دے یعنی که څوك دَ دهٔ بے عزتی کوی نو غصه کیږی دَ غیرت دَ وجے نه لیکن بیا بدله نه اخلی بلکه بخښش کوی۔

[۳۸] په دے کښ پنځم،شپږم،اووم اواتم صفت ذکرکوی﴿وَاَمْرُهُمْ شُوْرٰى بَيْنَهُمْ﴾ په دے کښ اشاره ده اتفاق او اتحادته چه سبب دَهغے مشوره کول دی دَیوبل سره اومشوره دَپاره دَ احکامو جوړولونه ده بلکه دپاره دَچلولودَ احکامودہ اودے ته اسلامی شوریٰ وئیلے کیږی اوهرچه مغربی شوریٰ اوجمهوریت

اِذَآ اَصَابَهُمُ الْبَغْيُ هُمْ يَنْتَصِرُوْنَ ﴿٣٩﴾ وَجَزٰٓؤُا سَيِّئَةٍ سَيِّئَةٌ مِّثْلُهَا ۚ فَمَنْ عَفَا وَاَصْلَحَ فَاَجْرُهٗ عَلَى اللّٰهِ ؕ
اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٤٠﴾ وَلَمَنِ انْتَصَرَ بَعْدَ ظُلْمِهٖ فَاُولٰٓئِكَ مَا عَلَيْهِمْ مِّنْ سَبِيْلٍ ﴿٤١﴾ اِنَّمَا السَّبِيْلُ عَلَى
الَّذِيْنَ يَظْلِمُوْنَ النَّاسَ وَيَبْغُوْنَ فِى الْاَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ ؕ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٤٢﴾ وَلَمَنْ صَبَرَ
وَغَفَرَ اِنَّ ذٰلِكَ لَمِنْ عَزْمِ الْاُمُوْرِ ﴿٤٣﴾ وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ وَّلِيٍّ مِّنْۢ بَعْدِهٖ ؕ وَتَرَى الظّٰلِمِيْنَ

چه کله اورسیږی هغوی ته زیاتے دَ چانه نو دوی بدله اخلی (۳۹) او بدله دَ بدئے بدی وی پشان دَ هغے نو چاچه معافے اوکړو او ښه عمل ئے اوکړونو ثواب دَ دهٔ دے په اللّٰه تعالیٰ باندے یقیناً اللّٰه تعالیٰ نه خوښوی ظالمان (٤٠) او خامخا چاچه بدله واخستله روستو دَ ظلم کیدلو نه په دهٔ باندے نو دغه کسان نیشته په دوی باندے هیڅ ملامتیا (٤١) یقیناً ملامتیا په هغه کسانو باندے ده چه ظلم کوی په خلقو باندے او سرکشی کوی په ملك کښ په نا حقه سره دغه کسان دوی لره عذاب درد ناك دے (٤٢) او خامخا چا چه صبر اوکړو او بخنه ئے اوکړه یقیناً دا دَ فرض کړے شوی کارونو نه دی (٤٣) او هغه څوك چه اللّٰه تعالیٰ ئے بے لارے کړی نو نیشته هغه لره هیڅوك بچ کوؤنکے روستو دَ بے لارے کولونه او وینے به ته ظالمانو لره

دے نوهغه دَ احکامو جوړولودپاره وی اوهغه شرك دے اوپه دے سورة کښ داصفت ئے دَ دے وجے نه ذکرکړو چه دعویٰ دَ دے سورة توحید فی الحکم وونودَ هغے دَجاری کولو دَپاره شوریٰ پکار ده۔

[۳۹] په دے کښ نهم صفت ذکردے(سوال) دَ څلورم صفت او دَدے صفت په مینځ کښ منافات دے(اول جواب) دا دے چه جنایت کوؤنکی دوه قسمه دی اول هغه دے چه په خپل جنایت کولوباندے نادم (پښیمانه) وی نوهغه ته معافی کول پکاردی اودویم هغه دے چه په جنایت باندے کلك دے او ظلم نه پریږدی نودَ هغه نه انتقام اخستل دی۔ دویم جواب دا دے چه اول په باره دَ غضب کولوپه وخت دَ دعوت کښ دے یعنی په وخت دَ دعوت اوتبلیغ کښ چه څوك زیاتے اوکړی اوکنځل اوکړی اوداعی غصه شی لیکن مغفرت کوی اودویم په باره دَ دُنیوی امورو کښ دے۔

[٤٠] په دے کښ طریقه دَ انتصاراوشرط دَ بدل اخستلو ذکرکوی چه برابروالے دے او بیائے ترغیب ذکرکړے دے اعلیٰ وصف ته چه عفوکول دی۔

[٤٢،٤١]په دے کښ دفع دَوهم ده چه هرکله یومظلوم بدله دَ ظالم نه واخلی نو بعض ناپوهه خلق په دے مظلوم باندے ملامتیاوائي نوپه دے ایت کښ په هغوی باندے رد دے اودا بدله اخستل عام دی که په بدن کښ وی یا مال کښ یا په عزت کښ۔

[٤٣] ﴿عَزْمِ الْاُمُوْرِ﴾ هغه کارونه چه په شرع کښ په طریقه دَ عزیمت سره مطلوب دی اگرچه مقابل کښ رخصت باندے عمل جائز دے۔

لَمَّا رَاَوُا الْعَذَابَ يَقُوْلُوْنَ هَلْ اِلٰى مَرَدٍّ مِّنْ سَبِيْلٍ ﴿۴۴﴾ وَتَرٰىهُمْ يُعْرَضُوْنَ عَلَيْهَا خٰشِعِيْنَ مِنَ
الذُّلِّ يَنْظُرُوْنَ مِنْ طَرْفٍ خَفِيٍّ ؕ وَقَالَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنَّ الْخٰسِرِيْنَ الَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ وَ
اَهْلِيْهِمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ اَلَآ اِنَّ الظّٰلِمِيْنَ فِيْ عَذَابٍ مُّقِيْمٍ ﴿۴۵﴾ وَمَا كَانَ لَهُمْ مِّنْ اَوْلِيَآءَ يَنْصُرُوْنَهُمْ
مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ سَبِيْلٍ ﴿۴۶﴾ اِسْتَجِيْبُوْا لِرَبِّكُمْ مِّنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَ
يَوْمٌ لَّا مَرَدَّ لَهٗ مِنَ اللّٰهِ ؕ مَا لَكُمْ مِّنْ مَّلْجَاٍ يَّوْمَئِذٍ وَّمَا لَكُمْ مِّنْ نَّكِيْرٍ ﴿۴۷﴾ فَاِنْ اَعْرَضُوْا
فَمَآ اَرْسَلْنٰكَ عَلَيْهِمْ حَفِيْظًا ؕ اِنْ عَلَيْكَ اِلَّا الْبَلٰغُ ؕ وَاِنَّآ اِذَآ اَذَقْنَا الْاِنْسَانَ مِنَّا رَحْمَةً فَرِحَ

هر کله چه اُوینی دوی عذاب لره وائي به دوی ایا شته دے واپسئی ته څه لار (٤٤) او وینے به ته دوی لره چه پیش کولے به شی په اُور باندے سرکوځی به وی دَ وجے دَ ذلت نه ګوری به په سترګو کمزورو سره او وائي به مؤمنان یقیناً پوره تاوانیان هغه کسان دی چه تاوان کښ ئے اچولی دی ځانونه او بال بچ خپل په ورځ دَ قیامت کښ خبر شئے یقیناً ظالمان به په عذاب همیشه کښ وی (٤٥) او نه به وی دوی لره هیڅوك مددګاران چه مدد اوکړی دَ دوی سره سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه او هغه څوك چه ے لارے کړی هغه لره اللّٰه تعالیٰ نو نیشته دهٔ لره هیڅ لار دَ هدایت (٤٦) قبول کړئ حکمونه دَ اللّٰه تعالیٰ مخکښ دَ دے نه چه رابشی یو ورځ نه به وی واپسی دَ هغے دَ طرف دَ اللّٰه تعالیٰ نه نه به وی تاسو لره ځائے دَ پناهئے په دغه ورځ کښ او نه به وی تاسو لره هیڅ انکار فائده مند(٤٧) نو که چرے دوی مخ واړه وڼ نو ئے لیږلے مونږ ته په دوی باندے حفاظت کوڼکے نیشته په تا باندے مګر رَسوَل دی او یقیناً مونږ کله چه اوڅکوڼ مونږ انسان ته دَ خپل طرف ته رحمت لوئي کوی

[٤٤] په دے کښ تخویف اُخروی دے هغه چالره چه دَ مخکښ صفتونونه محروم وی۔

[٤٥] داهم تخویف اُخروی دے په شپږطریقوسره ﴿مِنْ طَرْفٍ خَفِيٍّ﴾ یعنی ضعیف نظرچه سترګے به نشی اوچتولے دَ شرم دَ وجے نه (سوال) بل ایت سره ثابت دی چه دَ دوی حشربه په حال دَ ړوندوالی کښ کیږی؟(جواب) اول دا دے چه دا مختلف وختونه دی بعضِ وخت کښ به ئے نظرتیزوی ﴿فَبَصَرُكَ الْيَوْمَ حَدِيْدٌ﴾ اوبعض وخت به کمزورے نظروی۔ دویم جواب دا دے چه دلته طرف خفی نه مراد په زړه سره نظر کول دی نه په سترګو باندے۔

[٤٦] دا هم تخویف اُخروی کښ داخل دے او رد دے په شرك فی الولایة باندے ﴿فَمَالَهٗ مِنْ سَبِيْلٍ﴾ لاردَ حق په دنیاکښ اولاردَجنت په آخرت کښ۔

[٤٧] په دے ایت کښ دعوت دے هغه څیزته چه په هغے سره نجات حاصلیږی دَ هغه عذابونونه چه په مخکښ ایاتونوکښ ذکرشو ﴿اِسْتَجِيْبُوْا﴾ مراد دَ دے نه استجابت دَ دعوے دَ سورة دے اوپوره انقیاد دَ احکامودَ اللّٰه تعالیٰ ﴿لَا مَرَدَّ لَهٗ مِنَ اللّٰهِ﴾ یعنی اللّٰه تعالیٰ ئے نه واپس کوی نو بل څوك ئے هیڅ چرے نشی واپس کولے۔

بِمَا ۚ وَاِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌۢ بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْهِمْ فَاِنَّ الْاِنْسَانَ كَفُوْرٌ ﴿٤٨﴾ لِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَ
الْاَرْضِ ؕ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ؕ يَهَبُ لِمَنْ يَّشَآءُ اِنَاثًا وَّيَهَبُ لِمَنْ يَّشَآءُ الذُّكُوْرَ ﴿٤٩﴾ اَوْ يُزَوِّجُهُمْ ذُكْرَانًا
وَّاِنَاثًا ۚ وَيَجْعَلُ مَنْ يَّشَآءُ عَقِيْمًا ؕ اِنَّهٗ عَلِيْمٌ قَدِيْرٌ ﴿٥٠﴾ وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ اَنْ يُّكَلِّمَهُ اللّٰهُ اِلَّا وَحْيًا
اَوْ مِنْ وَّرَآئِ حِجَابٍ اَوْ يُرْسِلَ رَسُوْلًا فَيُوْحِيَ بِاِذْنِهٖ مَا يَشَآءُ ؕ اِنَّهٗ عَلِيٌّ حَكِيْمٌ ﴿٥١﴾ وَكَذٰلِكَ اَوْحَيْنَآ

په هغے باندے اوکه چرے او رسیږی دوی ته مصیبت په وجه د هغه عملونو چه مخکښ لیږلی دی لاسونو د دوی نو یقیناً انسان نا شکره دے (٤٨) خاص اللّٰه تعالیٰ لره بادشاهی د اسمانونو او د زمکے ده پیدا کوی هغه څه چه اوغواړی بخښش ورکوی چا ته چه اوغواړی لونړه او بخښش ورکوی چاته چه اوغواړی ځامن (٤٩) یا دوه قسمونه ورکوی بعضوته ځامن او لونړه او جوړوی چا لره چه اوغواړی شنډ یقیناً اللّٰه تعالیٰ پوهه دے قدرت والا دے (٥٠) اونشی کیدلے هیڅ بشر لره چه خبرے اوکړی هغه سره اللّٰه تعالیٰ مګر په وحی سره زړه د هغه ته یاروستو د پردے نه یا اولیږی ملك نو وحی کوی په حکم د اللّٰه تعالیٰ سره څه چه اوغواړی یقیناً هغه پورته دے حکمتونو والادے (٥١) او دغه شان وحی کړیده مونږ

[٤٨] دا مقابل د استجیبوا دے اوزجردے اعراض کوؤنکوته اوتسلّی ده رسول اللّٰهﷺ ته ﴿وَاِنَّآ اِذَآ اَذَقْنَا الْاِنْسَانَ﴾ دا زجر دے اوبیان د حالت د اعراض کولودے یعنی په حال د نعمت کښ اعراض په طریقه د تکبر سره کوی اوپه حالت د مصیبت کښ اعراض په طریقه د کفران سره کوی۔

[٤٩، ٥٠] دادلیل عقلی دے په توحید فی الولایة باندے کُلّی بادشاهی اوپیدائش اوتقسیم د اولاد دا ټول اللّٰه تعالیٰ لره خاص دی ایت ئیے په اثبات د مملك سره شروع کړواواشاره ده چه دا روستونظام د بادشاهئ نظام دے بیا ﴿يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ يَهَبُ﴾ دواړه ئیے ذکرکړه اشاره ده چه پیداکول دوه قسمه دی اول داچه د عدم نه وجود ته راولی بغیرد څه مادے نه دویم داچه د یوشیزنه بل شیزپیداکړی۔ بیا ئیے د انسانانود اولاد په لحاظ سره درے قسمونه ذکرکړل اوآخری ئیے بے اولاده ذکرکړوبیاد دے تقسیم علت ئیے ذکرکړوعلیم قدیردا ډیرافصح ابلغ بهترین ترتیب دے۔

فائده: دا قسمونه په اعتبار د غالب او اکثر سره دی نوپه دے سره انکار د څنیٰ نه نه شی کیدے ځکه چه لفظ د یَخلق مایشاء، اوقدیرخنیٰ پیداکولوته شامل دے۔

[٥١] مخکښ ایت کښ تقسیم د نعمت ظاهریه وؤ اوس په دے ایت کښ تقسیم د نعمت باطنیه دے چه وحی ده اوپه دے ایت کښ اثبات د عجز د انبیاء علیهم السلام دے د مرتبے د الوهیت نه ۔ کلام د اللّٰه تعالیٰ د بشر سره، د دے درے طریقے دی په طریقه د حصر سره اول طریقه وحی ده دلته خاص معنیٰ مراده یعنی په زړه د نبی کښ واچوی بغیرد واسطے د ملك نه که په بیدارئے کښ وی اوکه په خوب کښ وی۔ اوهم داسے خوب د ابراهیمعليه السلام په ذبح د ولد سره۔ دویمه طریقه ﴿اَوْمِنْ وَّرَآئِ حِجَابٍ﴾ یعنی خبرے حقیقتاً وے بغیرد لیدلود اللّٰه نه لکه په معراج کښ۔ دریمه طریقه ﴿اَوْيُرْسِلَ رَسُوْلًا﴾ مراد د رسول نه جبرئیلعليه السلام دے اودا روستنئے طریقه بیا په دوه قسمه ده لکه په دویم حدیث د بخاری کښ ذکرشویده۔ یوه داچه د جبرئیل آواز پشان د صلصلة الجرس وی اوداپه پیغمبرﷺ باندے ډیرګران وو لیکن هغه به ترینه

اِلَيۡكَ رُوۡحًا مِّنۡ اَمۡرِنَا ؕ مَا كُنۡتَ تَدۡرِىۡ مَا الۡكِتٰبُ وَلَا الۡاِيۡمَانُ وَلٰكِنۡ جَعَلۡنٰهُ نُوۡرًا نَّهۡدِىۡ بِهٖ مَنۡ نَّشَآءُ مِنۡ عِبَادِنَا ؕ وَاِنَّكَ لَتَهۡدِىۡۤ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسۡتَقِيۡمٍ ۙ﴿۵۲﴾ صِرَاطِ اللّٰهِ الَّذِىۡ لَهٗ مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَمَا فِى الۡاَرۡضِ ؕ اَلَاۤ اِلَى اللّٰهِ تَصِيۡرُ الۡاُمُوۡرُ ﴿۵۳﴾ ع

تاته دَ روح (قرآن) دَ وحے دَ حکم زمونږ نه نه وے ته چه پوهیدلے چه څه دے کتاب او نه په تفصیل دَ ایمان کښ لیکن اوګرځوؤ مونږ دا قرآن رنړا چه هدایت کوؤ مونږ په دے سره هغه چا ته چه اوغواړو مونږ دَ بندګانو څخلو نه او یقیناً تهٔ خامخا هدایت کوے لارے نیغے ته (۵۲) لار دَ اللّٰه تعالیٰ هغه ذات چه خاص هغه لره هغه څیزونه دی چه په اسمانونو کښ دی او هغه څیزونه چه په زمکه کښ دی خبر شئے خاص اللّٰه تعالیٰ ته ورګرځی ټول کارونه (۵۳)

ضروری وحی یاده کړه دویمه طریقه چه جبرئیل علیه السلام به متشکل شوپه شکل دَ یوسړی باندے اونبی ﷺ سره به ئے ښکاره خبرے کولے اودا آسانه طریقه وه۔

فائده: دَ دے ایت نه دلیل نیولے شوے چه انبیاء علیهم السلام په دُنیا کښ دَ اللّٰه تعالیٰ ملاقات نشی کولے صرف کلام اللّٰه آوریدل دی نودا یو دلیل دے چه کلام صفت دَ اللّٰه تعالیٰ دے۔

[۵۲] دا ترغیب دے قرآن کریم ته اوصدق دَ قرآن دے متعلق دے دَ ابتداء دَسورة سره اواشاره ده چه قرآن کریم په هغے طریقو سره نازل شویدے کومے چه په مخکښ ایت کښ ذکرشویدی ﴿رُوۡحًا﴾ مرادترینه قرآن دے ځکه قرآن سبب دَحیات روحانیه دے لکه چه روح حیوانی سبب دَ حیات بدنیه دے او دَ دے وجے نه قرآن ته ربیع القلوب هم وائي(سپرلے دَ زړونو) ﴿مَا كُنۡتَ تَدۡرِىۡ مَا الۡكِتٰبُ﴾ مراد ترینه قرآن کریم دے یعنی مخکښ دَ نزول دَقرآن نه نبی ﷺ دَ قرآن نه ناخبره وؤ۔ یا مراد دَ کتاب نه جنس نازل کتابونه دی یعنی تورات، انجیل،زبور یا مراد دَ کتاب نه لیکل دی ﴿وَلَا الۡاِيۡمَانُ﴾ مراد دَ دے نه ایمان تفصیلی یعنی تفصیلات اوشرائع دَایمان مخکښ دَ نبوت نه نبی ﷺ ته معلوم نه وویامراد ترینه طریقه دَ دعوت ده ایمان ته یا مراد ترینه اهل ایمان دی۔

فائده: دَد ے ایت نه معلومه شوه چه ایمان تفصیلی بغیردَ قرآن نه نه حاصلیږی نوهغه خبره چه وئیلے کیږی چه ایمان دَ قرآن نه مخکښ دے نومراد دَ هغے اجمالی ایمان دے۔

[۵۳] ﴿اَلَاۤ اِلَى اللّٰهِ تَصِيۡرُ الۡاُمُوۡرُ﴾ په دے سره دفع دَ وهم کوی که څوك وهم کوی چه په بعض څیزونو کښ خو دَ بندګانو ملکیت هم شته نوځه رنګ اوئیلے شو، له مافی السمٰوات ومافی الارض؟ حاصل جواب دا دے چه په حقیقت او عاقبت کښ دَ دے ټولو ملکیت اللّٰه تعالیٰ ته ورګرځی۔

سُوۡرَةُ الزُّخۡرُفِ (۴۳) مَكِّيَّةٌ (۸۹) | بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ | اٰيَاتُهَا ۸۹ رُكُوۡعَاتُهَا ۷

حٰمٓ ﴿۱﴾ وَالۡكِتٰبِ الۡمُبِيۡنِ ﴿۲﴾ اِنَّا جَعَلۡنٰهُ قُرۡءٰنًا عَرَبِيًّا لَّعَلَّكُمۡ تَعۡقِلُوۡنَ ﴿۳﴾ وَاِنَّهٗ فِىۡۤ اُمِّ الۡكِتٰبِ

حا میم (۱) قسم دے په کتاب واضح بیان کوؤنکی باندے (۲) (ګواهی کوی) چه یقیناً رالیږلے دے مونږ دا قرآن دَ عربیٔ ژبے دَ دے دپاره چه عقل نه کار واخلئے (۳) او یقیناً دے په اصل دَ کتابونو کښ دے

سورة زخرف

ربط: دَ دے سورة دَشوریٰ سره په ډیرو وجوهوسره دے اوله وجه داده چه په هغه سورة کښ امروؤ په تحکیم دَقرآن چه هغه حجت دَمؤحدینو دے نوپه دے سورة کښ تردید دے په حجتونو دَمشرکانو باندے۔ دویمه وجه داده چه محکښ رد وؤپه بعضِ شبهاتودَمشرکینوباندے نوپه دے سورة کښ رد دے په مشهوره شبهه دَ هغوی باندے چه هغه عقیده دَشفاعت شرکیه قهریه ده۔

دعویٰ دَ دے سورة : ردکول دی په حجتونودَ مشرکانوباندے یوحجت دَ هغوی مشیت دَ اللّٰه تعالیٰ دے په شرك باندے او دویم حجت عقیده دَشفاعت شرکیه اودریم حجت اتباع دَ اباؤ ده په (۲۰، ۸۶، ۲۲) کښ اودَ دے سره رد دے په اقساموَدَ شرك باندے شرك فی العبادة وفی الدعا وفی التصرف اوپه عقیده دَ اتخاذ الولد باندے په درے دلیلونونقلیواواته دلیلونو عقلیو سره۔

خلاصه دَ سورة : دا ده چه دا تقسیم دے درے بابونوته اول باب تر(۳۶) پورے دے په دے کښ ذکردَ صدق دَ قرآن دے په نهه طریقو سره بیا زجر او تخویف دُنیوی دے۔ بیا ځلور عقلی دلیلونه دی بیا زجر دے په مشرکین بالملائکة باندے او دَ هغوی په دوه دلیلونو باندے او دلیل نقلی دے دَ ابراهیم علیه السلام نه بیا دوه زجرونه دی او تزهید فی الدنیا ذکرکوی۔

تفسیر

[۲،۱] په دے کښ قسم ذکرکوی په قرآن باندے دَپاره دَ فائدے دَ شهادت پیش کولو او تفصیل دَ دے په ابتدا دَ سورة یٰس کښ تیرشویدے۔

[۳] دا جواب قسم دے حاصل دا دے چه دَ قران وضاحت چه اعلیٰ مرتبه کښ دے شاهد دے چه دا دَ اللّٰه تعالیٰ کتاب دے دَ بنده کتاب نه دے اودارنګ دَ هرعقل والادَپوهیدلوکتاب دے (سوال) دَ جعلنا ظاهری معنیٰ خوپیداکول دی نودَ دے نه معلومه شوه چه قرآن کریم مخلوق دے اوحال دا چه قرآن غیرمخلوق صفت دَ اللّٰه تعالیٰ دے اودا حق مذهب دے؟ (جواب) اول دا دے چه دلته مقصد توصیف دَ قرآن دے په عربیت سره دَپاره دَ ترغیب مخاطبینوعربوته اوجعل په معنیٰ دَ تصییردے یعنی قرآن په لغت عربیه کښ رالیږلے دے۔ دویم جواب، قرطبی وئیلی دی چه جعلنا په معنیٰ دَ سَمَّیناه (نوم هم ایخے دے) او وصفناه (صفت هم ورکړیدے) او انزلناه او بیّناه (نازل کړے دے اوبیان کړے دے مونږ) اوپه معنیٰ دَ انزلناه غوره دے ځکه چه قرآن کښ په دے لفظ سره ډیر ذکردے۔ او هغه جواب چه امام رازی او شربینی وغیرهما ذکرکړے دے چه مراد دَد ے نه کلام لفظی دے او هغه مخلوق دے دا قول غلط دے ځکه چه تقسیم دَ کلام

لَدَيْنَا لَعَلِيٌّ حَكِيْمٌ ﴿٤﴾ اَفَنَضْرِبُ عَنْكُمُ الذِّكْرَ صَفْحًا اَنْ كُنْتُمْ قَوْمًا مُّسْرِفِيْنَ ﴿٥﴾ وَكَمْ اَرْسَلْنَا مِنْ نَّبِيٍّ
فِي الْاَوَّلِيْنَ ﴿٦﴾ وَمَا يَاْتِيْهِمْ مِّنْ نَّبِيٍّ اِلَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿٧﴾ فَاَهْلَكْنَاۤ اَشَدَّ مِنْهُمْ بَطْشًا وَّمَضٰى
مَثَلُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿٨﴾ وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ لَيَقُوْلُنَّ خَلَقَهُنَّ الْعَزِيْزُ الْعَلِيْمُ ﴿٩﴾ الَّذِيْ
جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ مَهْدًا وَّجَعَلَ لَكُمْ فِيْهَا سُبُلًا لَّعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ ﴿١٠﴾ وَالَّذِيْ نَزَّلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءًۢ

زمونږ سره دے خامخا اوچت دے حکمتونو والا (٤) ایا نو واړوؤ مونږ ستاسو نه نصیحت په اړولو سره دَ دے وجے نه چه تاسو ئیے قوم مشرکان (٥) او ډیر لیږلی دی مونږ پیغمبران په مخکنو خلقو کښ (٦) او نه راتلو هغوی ته هیڅ پیغمبر مګر دوی به په هغه پورے ټوقے کولے (٧) نو هلاك کړل مونږ ډیر سخت دَ دوی نه په نیولو کښ او تیرے شویدی نمونے دَ زړو خلقو (٨) او که چرے ته تپوس اوکړے دَ دوی نه چا پیدا کړیدی اسمانونه او زمکه خامخا دوی به وائي پیدا کړیدی دا زورآور ډیر علم والا (٩) هغه ذات دے چه جوړه کړے ده تاسو لره زمکه بستره دَ ارام او جوړے کړیدی تاسو لره په هغے کښ لارے دَ دے دپاره چه تاسو هدایت او مومئے (١٠) او هغه ذات دے چه راوروِلی دی دَ اسمان دَ طرف نه اوبه

لفظی او نفسی ته بدعت دے اوقرآن کریم ښکاره دلیلونه دی چه مسموع مقروء متلو کلام اللّٰه دے او دا مذهب دَامام ابوحنیفه رحمه اللّٰه ذکرکړے دے فقه اکبرکښ او شرح عقیدة الطحاویه په ص(١٨٨) کښ په تفصیل سره اوامام ذهبی په کتاب العلو للعلی الغفارکښ دَامام ابویوسف مناظرة دَامام ابوحنیفه رحمهما اللّٰه تعالیٰ سره ذکرکړے چه امام صاحب رجوع اوکړه قول دَ امام ابو یوسف ته او اوئیل ئیے چه څوك وائي چه قرآن مخلوق دے نو هغه کافر دے۔

[٤] داهم دَقرآن صفات دی دَپاره دَتصدیق اوترغیب ورکولو ﴿وَاِنَّهٗ فِيْۤ اُمِّ الْكِتٰبِ﴾ دادلیل دے چه دا قرآن په دے خاص ترتیب سره په لوح محفوظ کښ په اصل ترتیب سره دے هاں په نازلولو کښ ترتیب په سبب دَواقعاتو سره په بله طریقه سره دے۔

[٥] دا زجردے په اعراض سره دَ قرآن نه په طریقه دَ استفهام انکاری سره یعنی که چرے مشرکان وائي چه مونږ خو توحید نه منونو مونږ ته دا قرآن ولے بیانوئیے او مونږ ورباندے تنګوئے نودَ هغوی جواب دا دے چه ستاسودَ شرك اودَ انکاردَ وجے نه قرآن نازلول اوقرآن بیانول نه پریګدو۔

[٦،٧،٨] په دے ایاتونوکښ تسلّی ده رسول اللّٰهﷺ ته اوتخویف دُنیوی دے منکرینوته روستودَ زجر ورکولو نه۔ په اول ایت کښ ارسال دَ رسولانو ذکردے او په دویم ایت کښ استهزا دَ منکرینو ذکر ده چه سبب دَ عذاب دے اوپه دریم ایت کښ مسبب ذکر دے چه عذاب دے۔

[٩] دا دلیل عقلی اعترافی دے په مسئله دَ توحید باندے اودا اقراردَ دوی په سورة عنکبوت:(٦١) لقمان:(٢٥) کښ ذکردے۔

[١٠] دا دویم دلیل دے په دے کښ اقرارنیشته ځکه چه لکم ئیے وئیلے دے لنا ئیے نه دے وئیلے نودا دَتیرشوی سره په طریقه دَ تنویر(ډیروضاحت) سره ذکرکړے دے یعنی هرکله چه خالق دَآسمانونواو زمکولره منئے نودا روستوقدرتونه دَ هغه به ضرورمنئے اوپه دے ایت کښ دوه نمونے دَ قدرت الٰهیه ذکرکړے دی۔

بِقَدَرٍ ۚ فَاَنْشَرْنَا بِهٖ بَلْدَةً مَّيْتًا ۚ كَذٰلِكَ تُخْرَجُوْنَ ﴿۱۱﴾ وَالَّذِيْ خَلَقَ الْاَزْوَاجَ كُلَّهَا وَجَعَلَ لَكُمْ مِّنَ الْفُلْكِ
وَالْاَنْعَامِ مَا تَرْكَبُوْنَ ﴿۱۲﴾ لِتَسْتَوٗا عَلٰى ظُهُوْرِهٖ ثُمَّ تَذْكُرُوْا نِعْمَةَ رَبِّكُمْ اِذَا اسْتَوَيْتُمْ عَلَيْهِ وَ
تَقُوْلُوْا سُبْحٰنَ الَّذِيْ سَخَّرَ لَنَا هٰذَا وَمَا كُنَّا لَهٗ مُقْرِنِيْنَ ﴿۱۳﴾ وَاِنَّآ اِلٰى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُوْنَ ﴿۱۴﴾ وَجَعَلُوْا لَهٗ
مِنْ عِبَادِهٖ جُزْءًا ۭ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَكَفُوْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿۱۵﴾ ع اَمِ اتَّخَذَ مِمَّا يَخْلُقُ بَنٰتٍ وَّاَصْفٰىكُمْ بِالْبَنِيْنَ ﴿۱۶﴾ وَاِذَا

په اندازه نو تازه کړیده مونږ په هغې سره زمکه وچه دغه شان به تاسو راویستلے کیږئ (۱۱) او هغه ذات دے چه پیدا کړیدی جوړئے ټولے او جوړے کړیدی ستاسو دپاره دَ کشتو او ځاروؤ نه هغه چه تاسو پرے سورلی کوئے (۱۲) دپاره دَ دے چه برابر شئے په شاګانو دَ هغې باندے بیا به یادکړئے نعمت دَ رب ستاسو کله چه برابر کیئے په هغې باندے او اوبه وائیے پاکی ده هغه ذات لره چه تابع کړځولے ده مونږ د پاره دا اونه وؤ مونږ دے لره قابو کوؤنکی (۱۳) او یقیناً مونږ خپل رب طرف ته خامخا به واپس ورګرځو(۱۴) او ګنړی دوی اللّٰه تعالیٰ لره دَ بندګانو دَ هغه نه ټکړے یقیناً دا انسان خامخا ناشکره ښکاره دے (۱۵) ایا نیولی دی اللّٰه تعالیٰ دَ هغه چا نه چه پیدا کړیدی لونړه او غوره ئے کړیٔ تاسو په ځامنو سره (۱۶) او کله چه

[۱۱] دا دریم دلیل دے په دے کښ هم دوه عظیم قدرتونه ذکرکوی بارانونه ورول اوبونې اوفصلونه پیداکول ﴿كَذٰلِكَ تُخْرَجُوْنَ﴾اشاره ده چه څه رنګ دا دلیل دَتوحید دَاللّٰه تعالیٰ دے نودارنګ دلیل دَبعث بعدالموت هم دے اوداسے دَ دے جملے په ذکرکولوسره یا داشت دَآخرت دے دَپاره دَ دے چه په وخت دَلیدلودَ فصلونواوباغونودَ دُنیاکښ دَآخرت نه غفلت رانشی۔

[۱۲] داځلورم دلیل عقلی دے په دے کښ دوه انعامات عامه ذکرکړی دی﴿الْاَزْوَاجَ كُلَّهَا﴾دا لفظ شامل دے حیواناتو اونباتاتواوصافواواطرافواوزمانیاتواومکاناتوټولوته مذکرمؤنث، خوګ تریخ، سپین تور، بره ښکته، خے طرف ګس طرف اسمان زمکه، ماضی اومستقبل، اوږے اوږمے، سپرلی اوځوان، شپه او ورځ، رنړا اوتیاره، جنّت اودوزخ، خیراوشر، فقراوغنا، ایمان او کفروغیره۔

[۱۴،۱۳] په دے کښ تعلیم دَ ادب، دَ سورلئے دے دپاره دَ دے چه انسان په هیڅ وخت کښ اوخاص دَ سورلے په وخت (چه هغه اکثرډهلاکت وخت وی یا سبب دَتکبراودَ لوئے وی) اللّٰه تعالیٰ لره هیرنه کړی اودَ هغه توحید اودَ هغه نعمتونه او قدرتونه هروخت یاد اوساتی اوحالت دَ مرګ اره هم یاد لری۔ اودا ادب په ژبه سره هم په حدیث سره ثابت دے اوپه زړه کښ هم دا عقیده ساتل فرض دی۔ سنت طریقه دا ده چه په رکاب کښ خپه کیدی نواول به بسم اللّٰه اُوائی بیابه اللّٰه اکبر اُوائی اوچه سورلئے باندے کیږی نوالحمد لِلّٰه به اُوائی دیته اشاره ده په دے قول کښ ثم تذکروا نعمة ربکم اذاستویتم علیه، اوبیا به سبحان الذی اه اُوائی ﴿وَاِنَّآ اِلٰى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُوْنَ﴾ په دے جمله کښ یادداشت دَ مرګ دے په طریقه دَ قیاس سره په حالت دَ سورلئے باندے یعنی لکه چه اوس دا انسان په سورلئے باندے سور دے او یوطرف ته روان دے نوداسے به یو وخت دَ خلقوپه اوګو باندے سوروی او دَمقبرے په طرف به روان وی۔

[۱۵] دا متعلق دے دَ لئن سألتهم، سره اوزجردے په شرک باندے یعنی چه دا اومنی چه اللّٰه تعالیٰ خالق

بُشِّرَ اَحَدُهُمْ بِمَا ضَرَبَ لِلرَّحْمٰنِ مَثَلًا ظَلَّ وَجْهُهٗ مُسْوَدًّا وَّهُوَ كَظِيْمٌ ﴿١٧﴾ اَوَمَنْ يُّنَشَّؤُا فِي الْحِلْيَةِ وَهُوَ
فِي الْخِصَامِ غَيْرُ مُبِيْنٍ ﴿١٨﴾ وَجَعَلُوا الْمَلٰٓئِكَةَ الَّذِيْنَ هُمْ عِبٰدُ الرَّحْمٰنِ اِنَاثًا ؕ اَشَهِدُوْا خَلْقَهُمْ ؕ
سَتُكْتَبُ شَهَادَتُهُمْ وَيُسْـَٔلُوْنَ ﴿١٩﴾ وَقَالُوْا لَوْ شَآءَ الرَّحْمٰنُ مَا عَبَدْنٰهُمْ ؕ مَا لَهُمْ بِذٰلِكَ مِنْ عِلْمٍ ۚ

زیرے ورکړیشی یو تن دَ دوی ته په هغه څیز چه بیانوی دَ رحمان دپاره په صفت کښ نو شی مخ دَ هغه تك تور او دے دَ غم نه ډك وی (۱۷) ایا (دوی نسبت کوی اللّٰه تعالیٰ ته) دَ هغه چا چه پالنه ئیے کیدیشی په کالو کښ او حال دا چه هغه په حالت دَ جګړه کښ صفا خبره نشی کولے (۱۸) او ګنړی دوی ملائك هغه چه بندګان دَ رحمان دی زنانه ایا دوی لیدلے دے پیدائش دَ هغوی خامخا لیکلے کیږی بیان دَ دوی او تپوس ترینه کیدیشی (۱۹) او دوی وائي که چرے غوښتے رحمان مونږ به بندګی نه وه کړے دَ دوی نیشته دوی لره په دے باندے هیڅ دلیل

اوقادردے نوبیا دَ هغه اولاد ته اوشریك ته څه حاجت دے چه مشرکان عقیده ساتی چه فلان بزرګ دَ اللّٰه تعالیٰ ولد دے اوملائك دَ اللّٰه تعالیٰ بنات دی اوفلانے ولی دَ اللّٰه تعالیٰ نازولے اودَبرخے خاوند دے ﴿جُزْءًا﴾ اولاد هم ټکړه ده اوشریك هم یوقسم ټکړه وی دَدے وجے نه دَ قتاده نه نقل دے چه جزء هرمعبود من دون اللّٰه ته شامل دے او اکثر مفسرینو دلته بنات(لونړه) مراد کړی دی۔

[١٦] دا رد په مشرکین بالملائکه باندے دے چه دوی عقیده لری چه داملائك دَ اللّٰه تعالیٰ لونړه دی یعنی داخبره په عقل او عرف کښ ډیره عجیبه ده چه اللّٰه تعالیٰ قادر دے په اولاد ورکولونوتاسوته دِ ځان درکوی اواللّٰه تعالیٰ دِ ځان له لونړه نیسی۔

[١٧] په دے کښ رد اوزجردے په بله طریقه سره چه هغه مخلوق چه تاسو ئیے طبعاً دَ ځان دپاره بدګنړئے نو دَ هغے اللّٰه تعالیٰ ته نسبت کوئے نو داخو بے عزتی دَ اللّٰه تعالیٰ ده په ډیره بے عزتئ سره۔

[١٨] په دے کښ زجردے په بله طریقے سره یعنی زنانه ضعیف جنس دے په نسبت دَنارینه نوځه رنګ دَ هغے ضعیف جنس هغه ذات ته نسبت کوئے چه علیم، اوقدیردے اوضعف ئیے په دوه طریقے سره ذکردے یوضعف دَ زینت دَ زنانه دے ځکه چه زنانه بغیرد کالونه بے ډوله بنکارپږی اونارینه خپل زینت کښ کالوته محتاج نه دے دویم ضعف دَکلام اودَمقابلے کولوپه خبرو کښ چه دَحیا دَ وجے نه خپل مقصد اودلیل پوره نشی بنکاره کولے ﴿اَوَمَنْ يُّنَشَّؤُا فِي الْحِلْيَةِ﴾ دا دلیل دے چه دَ زنانه دپاره کالی دَسپینواوسروجائزدی اواحادیث په دے کښ ډیروارد دی اوکوم احادیث چه دَ سروزرو دَاستعمال دَمنع په باره کښ راغلی دی هغه دَ بعض محدثینوپه نیزپه هغه حالت حمل دی۔ چه زکوٰة ئیے نه اداکوی او دَبعض په نیز حمل دی په خلاف اولی اوپه حالت دَ اسراف باندے۔

[١٩] مخکښ زجروڅپه دے خبره چه ملائکوته ئیے بنات دَ اللّٰه تعالیٰ وئیل اوس زجردے چه ملائکوته مؤنث وائي اودَ هغوی صفتونه په تانیث سره کوی ﴿الَّذِيْنَ هُمْ عِبٰدُ الرَّحْمٰنِ﴾ داصحیح عقیده ده په باره دَملائکوکښ په جواب دَهغه چاچه تپوس اوکړی چه ملائك مذکردی اوکه مؤنث دی اودا رد دے په هغه کسانوچه ملائك معبودګنړی ﴿اِنَاثًا﴾ لکه چه فارسئ کښ یوملك ته فرشته وائي اوپه پښتوکښ

اِنْ هُمْ اِلَّا يَخْرُصُوْنَ ﴿٢٠﴾ اَمْ اٰتَيْنٰهُمْ كِتٰبًا مِّنْ قَبْلِهٖ فَهُمْ بِهٖ مُسْتَمْسِكُوْنَ ﴿٢١﴾ بَلْ قَالُوْٓا اِنَّا وَجَدْنَآ اٰبَآءَنَا
عَلٰٓى اُمَّةٍ وَّاِنَّا عَلٰٓى اٰثٰرِهِمْ مُّهْتَدُوْنَ ﴿٢٢﴾ وَكَذٰلِكَ مَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ فِيْ قَرْيَةٍ مِّنْ نَّذِيْرٍ اِلَّا قَالَ
مُتْرَفُوْهَآ ۙ اِنَّا وَجَدْنَآ اٰبَآءَنَا عَلٰٓى اُمَّةٍ وَّاِنَّا عَلٰٓى اٰثٰرِهِمْ مُّقْتَدُوْنَ ﴿٢٣﴾ قٰلَ اَوَلَوْ جِئْتُكُمْ بِاَهْدٰى مِمَّا
وَجَدْتُّمْ عَلَيْهِ اٰبَآءَكُمْ ۭ قَالُوْٓا اِنَّا بِمَآ اُرْسِلْتُمْ بِهٖ كٰفِرُوْنَ ﴿٢٤﴾ فَانْتَقَمْنَا مِنْهُمْ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ

نه دی دوی مگر په توك خبرے كوی (٢٠) ایا ورکړیدے مونږ دوی ته کتاب مخکښ دَ دے نه نو دوی په هغے باندے دلیل نیوؤنکی دی (٢١) بلکه دوی وائي یقیناً موندلی دی مونږ مشران خپل په یو طریقه باندے او یقیناً مونږ په قدمونو دَ هغوی باندے هدایت والایو (٢٢) دغه شان نه دی لیږلی مونږ ستانه مخکښ په هیڅ کلی کښ ویره ورکوؤنکے مگر وئیل به ے حده مالدارو دَ هغے یقیناً موندلی دی مونږ مشران خپل په یو طریقه باندے او یقیناً مونږ په قدمونو دَ هغوی باندے اقتداء کوؤنکی یو(٢٣) اوبه وئیل پیغمبر ایا اګر چه راوړے دے ماتاسو ته بنه هدایت دَ هغے نه چه موندلی دی تاسو په هغے باندے مشران ستاسو (خپل) دوی به اُوئیل یقیناً مونږ په هغه ځیز چه تاسو پرے رالیږلے شوی ئے کفر کوؤ (٢٤) نو بدله واخستله مونږ دَ دوی نه نو اوګوره چه څه رنګ شو انجام

ورته فریښته یاملائکه وائي نودا الفاظ هم مؤنث دی دَ دے لفظونواستعمال جائزنه دے صحیح دا ده چه هغوی بندګان دَاللّٰه تعالیٰ دی ﴿وَيُسْـَٔلُوْنَ﴾ یعنی دَ دوی نه به دَدے دَ دلیل تپوس کیدے شی چه تاسوپه څه وجه ے دلیله خبرے پسے روان وئے۔ شربینی وئیلی دی دا دلیل دے چه قول ے دلیله منکرکاردے اوتقلید حرام دے سبب دَ ډیرے بدئے دے۔

[٢٠] دابل زجردے دَ دوی په عمل دَشرك باندے چه دَملائکوعبادت کوی اودارنګ باطل دلیل ذکرکوی چه مشیّت (رضا) دَ اللّٰه تعالیٰ ده په دے شرك باندے اوداهم زورِ دلیل دے دَمشرکانو۔ تردے ځائے پورے معلومه شوه چه مشرکینوبالملائکه پنځه قسمه کفرکړے دے اوّل داچه اللّٰه تعالیٰ لره ئے دَ جزء(ولد) عقیده لرلے ده۔ دویم داچه ملائك بنات اللّٰه ګنړی۔ دریم داچه ملائکوته زنانه وائي ځلورم داچه دَ هغوی عبادت کوی او پنځم داچه دَ دے نسبت مشیت دَ اللّٰه تعالیٰ ته کوی یعنی بنه کار ئے ګنړی۔

[٢١] دا هم زجردے چه په دے کفریاتوباندے چه دَ دوی سره دلیل دَکتاب اللّٰه نه نیشته یعنی دَ دوی دا عقیده لکه چه دَعقل نه خلاف ده نوداسے دا دَ نقل او وحی نه هم خلاف ده ﴿اٰتَيْنٰهُمْ﴾ دا لفظ دلالت کوی چه هرکتاب دَ شرع دلیل نه دے بلکه هغه کتاب دلیل دے چه دَ طرف دَ اللّٰه تعالیٰ نه وی وحی جلی یا وحی خفی۔

[٢٢] دابل زجردے اورد ے په دویم دلیل دَمشرکانوباندے چه هغه اتباع دَ اباؤ اوتقلید محض دے۔

[٢٣] دا تردید دے په دلیل دَ هغوی باندے چه اتباع اباء ده چه دا استدلال خودَ تیرشوؤ قومونو (مشرکانو) هم وونوهغوی باندے عذابونه راغلی وو نومعلومه شوه چه دا دلیل باطل دے۔

[٢٤] داتردید دے دَطرف دَمخکنورسولانونه په دغه دلیل باندے چه تاسوبه یا تابعداری دَهدایت کوئے یانه که دَهدایت تابعدارئے نو ماتاسو ته دَ پوره هدایت خبرے راوړے دی نو هغه ولے نه منئے۔

الْمُكَذِّبِيْنَ ﴿٢٥﴾ وَاِذْ قَالَ اِبْرٰهِيْمُ لِاَبِيْهِ وَقَوْمِهٖٓ اِنَّنِيْ بَرَآءٌ مِّمَّا تَعْبُدُوْنَ ﴿٢٦﴾ اِلَّا الَّذِيْ فَطَرَنِيْ
فَاِنَّهٗ سَيَهْدِيْنِ ﴿٢٧﴾ وَجَعَلَهَا كَلِمَةًۢ بَاقِيَةً فِيْ عَقِبِهٖ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿٢٨﴾ بَلْ مَتَّعْتُ هٰٓؤُلَآءِ
وَاٰبَآءَهُمْ حَتّٰى جَآءَهُمُ الْحَقُّ وَرَسُوْلٌ مُّبِيْنٌ ﴿٢٩﴾ وَلَمَّا جَآءَهُمُ الْحَقُّ قَالُوْا هٰذَا سِحْرٌ وَّاِنَّا بِهٖ
كٰفِرُوْنَ ﴿٣٠﴾ وَقَالُوْا لَوْلَا نُزِّلَ هٰذَا الْقُرْاٰنُ عَلٰى رَجُلٍ مِّنَ الْقَرْيَتَيْنِ عَظِيْمٍ ﴿٣١﴾ اَهُمْ يَقْسِمُوْنَ رَحْمَتَ رَبِّكَ

د تکذیب کوؤنکو (۲۵) او کله چه اوئیل ابراهیم(علیه السلام) پلار خپل او قوم خپل ته یقیناً څه ویزاره یم د هغه چانه چه تاسو ئیے بندگی کوئ (۲۶) مگر هغه ذات چه څه ئیے پیدا کړے یم نو هغه به ماته لار ښائي (۲۷) او پاتے کړه الله تعالیٰ دا کلمه باقی په اولاد د هغه کښ دے دپاره چه دوی او ګرځی (دګمراهئ نه) (۲۸) بلکه مزے د دنیا ورکړیدی ما دوی ته او مشرانو د دوی ته تردے پورے چه راغے دوی ته حق او رسول ښکاره بیان کوؤنکے (۲۹) او هر کله چه راغے دوی ته حق اُوئیل دوی دا جادو دے او یقیناً مونږ په دے باندے کفر کوؤنکی یو(۳۰) او اُوئیل دوی ولے نازل نه کړے شو دا قرآن په یو سړی باندے د دوؤ کلونه چه لوے دے (۳۱) ایا دوی تقسیموی رحمت د رب ستا

[۲۵] دا تخویف دے منکرینوته اوتسلّی ده رسول الله ﷺ ته۔

[۲۶،۲۷] دا دلیل نقلی دے د ابراهیم علیه السلام نه په رد د شرك کښ اوپه رد کولود دلیل د مشرکانو کښ په اتباع د آباؤ سره حاصل دا دے چه اتباع دَمشرانو که شرعی دلیل وے نوابراهیم علیه السلام دَخپل پلار اودَمشرانودَ قوم نه په څه وجه مخالفت کوؤ؟ او دارنګ ستاسومشرابراهیم علیه السلام هم دے نوچه تاسودَمشرانوپه اتباع باندے دلیل نیسئے نودَ ابراهیم علیه السلام دَاتباع نه ولے انکارکوئے ﴿سَيَهْدِيْنِ﴾ مراد ترینه استقامت دے ځکه چه په سبب د اعلان د دے کلمے سره ډیر مصیبتونه راځی اوپه هغے کښ استقامت ته ضرورت دے۔

[۲۸] په دے کښ وضاحت دے چه دا کلمه په ابراهیم علیه السلام پورے خاص نه ده دَپاره د دے چه مشرکین مکه اونه وائي چه دا کلمه زمونږدپاره نه ده ﴿وَجَعَلَهَا﴾ یعنی داکلمه د توحید اودَ برائة عن الشرك الله تعالیٰ په ټول اولاد د ابراهیم علیه السلام کښ جاری اوساتله په سبب د دے چه روستو د ابراهیم علیه السلام نه ټول انبیاء علیهم السلام ئے د دهٔ په اولاد کښ پیداکړل اوهغوی توحید ته دعوت ورکړیدے ﴿عَقِبِهٖ﴾ ټول اولاد ته وئیلے کیږی نو یهودیان، نصاریٰ، اومشرکین عرب پکښ ټول داخل دی او دا اجراء د نبوت او د توحید د دهٔ په اولاد کښ په سبب د دُعا د دهٔ سره وه۔

[۲۹،۳۰] په دے ایاتونو کښ زجردے په انکارد رسول اودَ قرآن په ذکرد اول سبب دَانکارکولواوپه دے کښ جواب د یو سوال دے هغه دا دے چه هرکله حجتونه د دوی خوباطل دی اودَابراهیم علیه السلام کلمه د برائت دوی ته معلومه شویده نوبیا په څه وجه سره انکارکوی نوپه جواب کښ هغه سبب ذکرکوی چه هغه ﴿مَتَّعْتُ هٰٓؤُلَآءِ وَاٰبَآءَهُمْ﴾ دے یعنی سره د شرك کولونه الله تعالیٰ دوی ته مالونه اوصحت وعافیت او د دُنیا ترقیٔ ورکړی دی نو دوی داخیال اوکړوچه مونږ او زمونږه طریقه الله تعالیٰ ته خوښه ده۔

[۳۱] دا بل زجردے او دویم سبب د انکار ذکرکوی هغه دا دے چه سبب د عظمت په نیز د منکرینو مالداری ده او نبوّت ئیے حق د مالدارګنړلے دے لکه چه دا عقیده د سرمایه دارو وی نودوی اوئیل چه په

نَحْنُ قَسَمْنَا بَيْنَهُمْ مَّعِيْشَتَهُمْ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَرَفَعْنَا بَعْضَهُمْ فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجٰتٍ لِّيَتَّخِذَ بَعْضُهُمْ
بَعْضًا سُخْرِيًّا ؕ وَرَحْمَتُ رَبِّكَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُوْنَ ﴿۳۲﴾ وَلَوْلَآ اَنْ يَّكُوْنَ النَّاسُ اُمَّةً وَّاحِدَةً لَّجَعَلْنَا لِمَنْ
يَّكْفُرُ بِالرَّحْمٰنِ لِبُيُوْتِهِمْ سُقُفًا مِّنْ فِضَّةٍ وَّمَعَارِجَ عَلَيْهَا يَظْهَرُوْنَ ﴿۳۳﴾ وَلِبُيُوْتِهِمْ اَبْوَابًا وَّسُرُرًا عَلَيْهَا
يَتَّكِـُٔوْنَ ﴿۳۴﴾ وَزُخْرُفًا ؕ وَاِنْ كُلُّ ذٰلِكَ لَمَّا مَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ؕ وَالْاٰخِرَةُ عِنْدَ رَبِّكَ لِلْمُتَّقِيْنَ ﴿۳۵﴾ ع ۹

مونږ تقسیم کړیدے دَ دوی په مینځ کښ سامان دَ ژوند دَ دوی په ژوند دُنیوی کښ او پورته کړیدی مونږ بعض دَ دوی دَ بعضو دپاسه په درجو کښ دپاره دَ دے چه اونیسی بعضے دَ دوی بعضو لره خدمتګاران او رحمت دَ رب ستا غوره دے دَ هغه نه چه دوی جمع کوی (۳۲) او که چرے نه جوړیدلے خلق یو ډله (په کفر باندے) خامخا جوړ کړے به ووُ مونږ هغه چا لره چه کفر کوی په رحمان باندے دپاره دَ کوټو دَ هغوی چتونه دَ سپینو زرو او پاونړئے چه په هغے باندے دوی ورخیژی (۳۳) او دپاره دَ کوټو دَ دوی دروازے او کټونه چه په هغے باندے ارام کوی (۳۴) (او ورکړی به وو ما)سره زر او نه دی دا ټول مګر لږے مزے دَ ژوند دُنیوی دی او اخرت په نیز دَ رب ستا دپاره دَ تقویٰ والو دے (۳۵)

مکه اوطائف کښ لوئے لوئے مالداران شته نوداوحی هغوی ته ولے نه نازلیږی۔

[۳۲] په دے کښ رد دے دَ هغوی په باطله نظریه باندے چه حاصل دَ هغے دا ووُ چه تقسیم دَ نبوت دوی په خپل اختیاراودَ خپلے رائے موافق کنړلو هرکله چه دونی دَ رائے نه خلاف اوشونو دوی انکارکوی حاصل دَ رد دا دے چه نبوت او رسالت خو دَ اللّٰه تعالیٰ خاص رحمت دے چه په هغے کښ دَهیڅا اختیارنه رسی نودوی په څه وجے سره دَ هغے تقسیم په خپله رائے سره کوی ﴿نَحْنُ قَسَمْنَا﴾ دا تاکید دَ رد دَ هغوی دے یعنی هغه دنیا چه یودلیل خیزدے هغه به خنګه دَدوی په اختیارکښ شی ﴿مَعِيْشَتَهُمْ﴾ مراد دَ دے نه اسباب دَ ژوند دَ دُنیا دی اوهرکله چه داتقسیم به اختیارد اللّٰه تعالیٰ کښ دے دَ دے وجے نه یوبے عقله ساده انسان به وی اوهغه به مالداروی اوبل هوښیارپه وی لیکن فقیربه وی دارنګه کله یوانسان دَمال ګټلوډپاره ډیرے طریقے اوحیلے استعمال کړی لیکن مال ورنه حاصل نشی اوکله یوانسان ته بغیرد تکلیف نه پیرمال حاصل شی نومعلومه شوه چه دا اختیاراونصرف دَاللّٰه تعالیٰ دے۔اودلیل دَتقسیم دا دے چه﴿وَرَفَعْنَا بَعْضَهُمْ فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجٰتٍ﴾یعنی څوك غنی اوشوك فقیراوشوك حر(ازاد)اوشوك مړیے اوشوك بادشاه اوشوك رعیت اوشوك هوښیار اوشوك کم عقل داټول په اختیارد اللّٰه تعالیٰ کښ دی﴿لِيَتَّخِذَ بَعْضُهُمْ بَعْضًا سُخْرِيًّا﴾داحکمت دَ تفاوت دَ درجاتو دے هغه دا دے چه بعض خادم اونوکراومزدورشی دَ بعض نوروټپاره نونظام دَ دُنیا به چلیږی په دے معنیٰ سُخریاً دَ مسخّرکولونه ماخوذ دے۔ دویمه معنیٰ دا ده چه لام دَ عاقبت دے اوسخریا معنیٰ داچه ورپورے مسخره کیدے شی، یعنی دَ دغه تفاوت نتیجه اواثردادے چه مالداربه غریب پورے مسخره کوی۔

[۳۵،۳۴،۳۳] په دے ایاتونو کښ ذلت دَ دنیا ذکرکوی متعلق دے دَ خیر ممّا یجمعون، سره او دارنګ متعلق دے دَ(۳۱) سره یعنی بل رد دَ هغوی په قول باندے چه هغوی سبب دَ عظمت مالداری ګڼری نو اللّٰه تعالیٰ دَ هغے ذلت ذکرکوی حاصل دادے چه دَ دُنیا مالونه دَ اللّٰه تعالیٰ په نیز دومره ذلیل دی چه دَ مؤمن دَ

وَمَنْ يَّعْشُ عَنْ ذِكْرِ الرَّحْمٰنِ نُقَيِّضْ لَهٗ شَيْطٰنًا فَهُوَ لَهٗ قَرِيْنٌ ﴿۳۶﴾ وَاِنَّهُمْ لَيَصُدُّوْنَهُمْ عَنِ السَّبِيْلِ وَ يَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ مُّهْتَدُوْنَ ﴿۳۷﴾ حَتّٰۤى اِذَا جَآءَنَا قَالَ يٰلَيْتَ بَيْنِيْ وَبَيْنَكَ بُعْدَ الْمَشْرِقَيْنِ فَبِئْسَ الْقَرِيْنُ ﴿۳۸﴾

او چا چه لږه ستر کې پټې کړې د ذکر د رحمٰن نه جوخت به اولګوؤ په ده پسې شیطان نو هغه به د ده ملګرې وی (۳۶) او یقیناً دوی خامخا اړوی دوی لره د لارې (د حق) نه او دوی ګمان کوی چه دوی هدایت والا دی (۳۷) تر دې پورې چه کله راشی مونږ ته وائي به هائے ارمان دے په مینځ زما او ستا کښ لرې والے د مشرق مغرب وے نو ته ناکاره ملګرے وے (۳۸)

شان سره هیڅ مناسبت نه لری بلکه د کافرانو سره ئے پوره مناسبت دے نو پکار خو داوه چه اللّٰه تعالیٰ دا ټول مالونه کافرانو له ورکړے وے او مؤمنانوته پکښ هیڅ نه ورکولے لیکن یوحکمت الهیه د دے نه مانع دے هغه دا دے چه بیا به ټول خلق کافرشی مؤمن به پکښ هیڅوك نه وی۔ او مراد د امةواحدة، نه د ټولو خلقو کافر کیدل دی یا ګرځیدل د ټولو طلب ګاړئے د دُنیا ته دی معنیٰ دا ده که چرے نوے د ټولو خلقو کافرکیدل یا دنیا پرست کیدل نومابه ټول سرهٔ اوسپین کافرانوله ورکړے وے لیکن د ټولوکافر کیدل د اللّٰه تعالیٰ خوښ نه دی نو د دے وجے نه کافرانوته ئے ټول مالونه نه دی ورکړی اوبرعکس مطلب ئے دادے چه ټول مالونه اللّٰه تعالیٰ کافرانوله نه دی ورکړی دپاره د دے چه ټول خلق کافران یا دُنیا پرست نه شی ﴿سُقُفاً مِّنْ فِضَّةٍ﴾ چهتونه اوپانوړے اودروازے او کټونه دا ځلورئیے د دے وجے نه خاص ذکرکړل چه عادت دادے چه داجوړیږی د لرګونه یا د اوسپنے نه اونوره ابادی سیمټوخښتوګټونه کیږی نوچه کوم د اوسپنے یالرګونه جوړیږی نوهغه به ئے د سپینوزرونه جوړ کړے وے اوسپین زرئیے د دے وجه نه خاص کړل چه د هغے سره په مکان کښ رنړاهم وی۔

[۳۶] د دے ایت نه تر(۶۷) پورے دویم باب دے په دے کښ زجراوتخویف دے معرضینود قرآن ته بیا تسلّی ده رسول اللّٰهﷺ ته اوصدق د قرآن دے بیا دلیل نقلی اجمالی دے بیا دلیل نقلی تفصیلی دے د موسیٰؑ نه بیا زجر دے منکرینوته او دلیل نقلی تفصیلی دے د عیسیٰؑ نه۔ په دے (۳۶) کښ زجر دے په اعراض کولوسره د قرآن نه چه داپیداکیږی په سبب د محبت د دنیا سره چه محکښ ایت کښ د هغے ذلت بیان شو ﴿وَمَنْ يَّعْشُ﴾ دا د عشایعشونه اخستلے شوے دے اعشیٰ کمزوری نظروالاته وئیلے کیږی او هغه څوك چه د شپے ئے نظر نه لګی اود ورځے لګی اود چاچه نظرصحیح وی لیکن قصداً ځان روندکړی نو هغه دپاره عشییَ یعشی استعمالیږی اودلته اکثر قراء ة په پیښ د شین سره دے یعنی اوله معنیٰ مراد ده اوپه دے کښ لطیفه اشاره ده چه قرآن نه معمولی (لږ) اعراض اوکړی نوسبب دَعذاب دے نوچه پوره اعراض ئے کړے وی نوهغه په طریقه اولی سره هلاك اوتباه دے ﴿فَهُوَ لَهٗ قَرِيْنٌ﴾ یعنی هیڅ وخت ترینه نه جداکیږی یعنی باطلے عقیدے عملونه اواخلاق معاملات وغیره ورته خائسته کړی اودَحلال نه ئے منع کوی اود طاعت نه منع کوی اوحرام اومعصیت ورته خائسته کړی۔

[۳۷] ﴿وَيَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ مُّهْتَدُوْنَ﴾ اشاره ده چه ګمراهی دوه قسمه ده یوداچه ګناه ښکاری لیکن د بے پرواهئے د وجے ئے کوی نوداخومرتبه د فسق ده اودویم قسم داچه ګناه ورته ثواب ښکاری اوپه هغے کښ

وَلَنْ يَّنْفَعَكُمُ الْيَوْمَ اِذْ ظَّلَمْتُمْ اَنَّكُمْ فِي الْعَذَابِ مُشْتَرِكُوْنَ ﴿۳۹﴾ اَفَاَنْتَ تُسْمِعُ الصُّمَّ اَوْ تَهْدِي الْعُمْيَ
وَمَنْ كَانَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۴۰﴾ فَاِمَّا نَذْهَبَنَّ بِكَ فَاِنَّا مِنْهُمْ مُّنْتَقِمُوْنَ ﴿۴۱﴾ اَوْ نُرِيَنَّكَ الَّذِيْ وَعَدْنٰهُمْ
فَاِنَّا عَلَيْهِمْ مُّقْتَدِرُوْنَ ﴿۴۲﴾ فَاسْتَمْسِكْ بِالَّذِيْ اُوْحِيَ اِلَيْكَ ۚ اِنَّكَ عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۴۳﴾ وَاِنَّهٗ لَذِكْرٌ لَّكَ

او هیڅرے به نفع درنکړی تاسو ته نن ورځ کله چه تاسو ظلم (شرك) کړے دے دا خبره چه تاسو په عذاب کښ شریك ئیے (۳۹) ایا نوته اوروړل کولے شے کونړ ته یا هدایت ورکولے شے ړوند ته او هغه چا ته چه دی په ګمراهئ ښکاره کښ (٤٠) نو که چرے بوځو مونږ تا نو یقیناً مونږ دَ دوی نه بدله اخستونکی یو(٤١) یا به اوخایو تاته هغه عذاب چه وعده کړیده مونږ دَ دوی سره نو یقیناً مونږ دَ دوی په عذاب باندے ښه قدرت لرو (٤٢) نو کلك اونیسه هغه چه وحی کړے شویده تاته یقیناً ته په لار نیغه باندے ئیے (٤٣) او یقیناً دا قرآن ذکر ستا دے

فائدے ګټړی نودا مرتبه دَ بدعت ده که په عقیده کښ وی اوکه عمل کښ وی او دا درجه ډیره خطرناکه ده ځکه چه انسان دَد ے نه توبه نه اوباسی په دے وجه چه ښه کارئیے ګټړی نودلته دا دویمه مرتبه مراد ده۔ اوپه دے کښ اشاره ده چه دَ ښه اوبدتمیزپه قرآن سره کیږی اودے انسان خو دَ هغے نه اعراض کړے دے دَ دے وجے نه بدکار ته ښه کار وائی۔

[۳۸] په دے کښ تخویف اُخروی دے ﴿بُعْدَ الْمَشْرِقَيْنِ﴾ یعنی چه ستانه دومره لرے وے لکه چه مشرق دَ مغرب نه لرے دے یا مشرق دَ ژمی او دَ اوړی چه دَ یو بل نه لرے دی۔

[۳۹] داهم تخویف کښ داخل دے اوجواب دَ سوال دے هغه دا دے چه کله بلاء عامه وی نو اسانه وی نو چه په عذاب کښ ډیرخلق شریك وی نو اسان به وی؟ جواب اوشوچه عذاب دَ جهنم دَ خلقوپه ډیروالی سره نه اسانیږی۔ یا دا سوال دے چه افسوسونه اوارمانونه ډیرشی نوځه غم به سپك شی نو جواب اوشو چه دا هم نفع نه ورکوی۔

[٤٠] په دے ایاتونوکښ تسلّی ده نبیﷺ ته په مختلفوطریقوسره په دے ایت کښ اوله طریقه ده چه که چرے دا خلق دَ قرآن نه اعراض کوی او ایمان نه راوړی نو په تا باندے هیڅ وبال نیشته ځکه چه مانع دَ دوی دَ طرف نه دے چه دَ قرآن نه کانړه او ړانده دی۔

[٤١،٤٢] په دے کښ دویمه طریقه دَ تسلّئ ده یعنی مونږ به دے منکرینوته ضرور عذاب ورکوویابه ستا دَ هجرت یا وفات نه روستوعذاب ورکړویابه ستاپه حضورکښ عذاب راولونوته هیڅ پرواه مه کوه اودارنګ په سورة یونس(٤٦) اوسورة رعد(٤٠) اوسورة غافر(٧٧)کښ تیرشویدی۔ اودَحسن اوقتاده نه په روایت کښ دَ دے ایاتونومصداق واقع کیدل دَ فتنودی په مسلمانانوکښ روستودَ وفات دَ نبی ﷺ نه نو اللّٰه تعالیٰ دَ نبیﷺ په ژوندکښ هغه ته هغه حالات اوخودل په امت کښ چه هغه پرے خوشحاله شو او روستودَ وفات نه فتنے شروع شوے اودا اکرام دے زمونږدَ نبیﷺ ځکه چه دَ نوروانبیاء علیهم السلام په ژوندکښ دَ هغوی په امتونو به عذابونه راتلل۔

[٤٣] په دے کښ تشجیع ده نبیﷺ ته روستودَ تسلّئ نه یعنی که داخلق منی اوکه نه منی خوته په کتاب

وَلِقَوْمِكَ ۚ وَسَوْفَ تُسْـَٔلُوْنَ ﴿٤٤﴾ وَسْـَٔلْ مَنْ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رُّسُلِنَآ اَجَعَلْنَا مِنْ دُوْنِ الرَّحْمٰنِ اٰلِهَةً يُّعْبَدُوْنَ ﴿٤٥﴾ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا مُوْسٰى بِاٰيٰتِنَآ اِلٰى فِرْعَوْنَ وَمَلَا۟ئِهٖ فَقَالَ اِنِّيْ رَسُوْلُ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٤٦﴾ فَلَمَّا جَآءَهُمْ بِاٰيٰتِنَآ اِذَا هُمْ مِّنْهَا يَضْحَكُوْنَ ﴿٤٧﴾ وَمَا نُرِيْهِمْ مِّنْ اٰيَةٍ اِلَّا هِيَ اَكْبَرُ مِنْ اُخْتِهَا ۖ وَاَخَذْنٰهُمْ بِالْعَذَابِ

او ستا دَ قوم دے او زر ده چه تاسو نه به تپوس اوکړیشی (٤٤) او تپوس اوکړه دَ هغه چا نه چه لیږلی دی مونږ ستا نه مخکښ رسولان زمونږ چه ایا جوړ کړیدی مونږ سیوا دَ رحمان نه نور وا کداران دَ نفعے او ضرر چه دَ هغوی عبادت کیدیشی (٤٥) او یقیناً لیږلے وؤ مونږ موسیٰ(علیه السلام) په معجزاتو زمونږ سره فرعون ته او غټانو دَ قوم دَ هغه ته نو اُوئیل هغه یقیناً ځه رسول دَ رب دَ عالمینویم (٤٦) نو هر کله چه راغے دوی ته په معجزاتو زمونږ سره د غه وخت دوی په هغه پورے خندا کوله (٤٧) او نه خودله مونږ دوی ته هیڅ معجزه مګر هغه به غټه وه دَ ملګرے دَ هغے نه اونیولی وؤ مونږ دوی لره په عذاب سره

دَ اللّٰه تعالیٰ باندے کلك شه په بیان کولواوعمل کولواودلیل نیولوکښ ﴿اِنَّكَ﴾ دا اول علت دے دَماقبل یعنی ځوك چه په صراط المستقیم باندے وی نوپه هغه باندے تمسّك په کتاب اللّٰه سره لازم دے او دا دلیل دے چه لار دَ نبی ﷺ صراط مستقیم ده۔

[٤٤] دا دویم علت دے دَ فاستمسك دپاره ﴿وَسَوْفَ تُسْـَٔلُوْنَ﴾ تپوس به کیدے شی په باره دَنعمت دَقرآن کښ دَلوستلو او دَ عمل کولو او دَ بیان کولوپه باره کښ۔ په ایت کښ اشاره ده چه قرآن دَ نعمتونو دَ اللّٰه تعالیٰ نه یوډیرلوئے نعمت دے۔

[٤٥] دا دلیل نقلی اجمالی دے دَ ټولوانبیاؤعلیهم السلام نه لکه چه په سورة نحل (٣٦) اوسورة انبیاء (٢٥)کښ دی او مخکښ سره ربط ئے دا دے لکه چه په قرآن کریم کښ ذکر دَ توحید دے نو داسے دَ انبیاؤ دعوت هم دَ توحید دَپاره وؤنو دعوت دَ قرآن موافق دے دَ دعوت دَ ټولورسولانوسره ﴿وَسْـَٔلْ مَنْ اَرْسَلْنَا﴾ دا حکایت دَ شپے دَ اسراء دے چه په دغه شپه دَ بعض انبیاؤسره ملاقات اوشونو ورته امر اوکړے شو چه اوس دَ دوی نه تپوس اوکړه لکه چه دا روایت قرطبی ابن کثیر وغیره نقل کړے دے بیا پکښ دوه روایتونه دی اول داچه هغه ترے تپوس اوکړونو هغوی ورته جواب اوکړو چه مونږپه توحید باندے رالیږلے شوی یو، دویم روایت دا دے چه هغه تپوس نه دے کړے اوئیل ئے چه ځما یقین دے نو تپوس ته حاجت نیشته یا دَ سوال نه مراد نظرکول دَ هغوی په کتابونواودینونوکښ دی لکه تورات اوانجیل اودَ دے وجے نه دَ دے نه روستو اياتونوکښ حال دَ موسیٰ اودَعیسیٰ علیهما السلام ئے ذکرکړے دے ﴿اَجَعَلْنَا مِنْ دُوْنِ الرَّحْمٰنِ اٰلِهَةً﴾ په دے لفظ جعلناکښ اشاره ده چه دَ مشرکانوسره اختلاف دَمؤحدینوپه مجهول الهوکښ دے لکه چه اوس بعضِ خلق هغوی ته عطائي وائي اوعوام تعبیرکوی چه اولیاؤبزرګانوته اللّٰه تعالیٰ برخے ورکړی دی چاته ئے اختیار ورکړے دے دَ اولاد ورکولو چاته ئے اختیار ورکړے دَ مالدار کولو چاته دَګوزن لرکولوچاته دَ بادولرکولوچاله دَ دانوجوړلواوچاله ئے مطلق واك ورکړے دے اوچاته ئے علم غیب عطائي ورکړے دے یعنی دوی دَ اللّٰه تعالیٰ نه سیوا مستقل اِلٰهه نه دی ګڼړلی او دا حقیقت دَ شرك دے۔

[٤٦،٤٧] دا دلیل نقلی تفصیلی دے دَ موسیٰ علیه السلام نه اوعاقبت دَ تکذیب کوؤنکوذکرکوی په واقعه دَ

لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿٤٨﴾ وَقَالُوْا يٰٓاَيُّهَ السّٰحِرُ ادْعُ لَنَا رَبَّكَ بِمَا عَهِدَ عِنْدَكَ ۚ اِنَّنَا لَمُهْتَدُوْنَ ﴿٤٩﴾ فَلَمَّا كَشَفْنَا
عَنْهُمُ الْعَذَابَ اِذَا هُمْ يَنْكُثُوْنَ ﴿٥٠﴾ وَنَادٰى فِرْعَوْنُ فِيْ قَوْمِهٖ قَالَ يٰقَوْمِ اَلَيْسَ لِيْ مُلْكُ مِصْرَ وَهٰذِهِ
الْاَنْهٰرُ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِيْ ۚ اَفَلَا تُبْصِرُوْنَ ﴿٥١﴾ اَمْ اَنَا خَيْرٌ مِّنْ هٰذَا الَّذِيْ هُوَ مَهِيْنٌ ۙ وَّلَا يَكَادُ يُبِيْنُ ﴿٥٢﴾

دے دپاره چه اوګرځی دَ ګمراهۍ نه (٤٨) او دوی اُوئیل اے جادو ګره دُعا او غواړه مونږ لره دَ رب خپل نه په دے وجه چه وعده ئے کړیده ستا سره یقیناً مونږ به هدایت قبول کړو (٤٩) نو هر کله چه لرے کړو مونږ دَ دوی نه عذاب دغه وخت دوی وعده به ماتوله (٥٠) او اواز اوکړو فرعون په قوم خپل کښ اُوئیل ئے اے قومه ایا نیشته ما لره بادشاهی دَ مصر او دا ولے هم بهیږی لاندے دَ حکم زمانه ایا نو تاسو نه وینئے (٥١) ایا ځه غوره یم دَ دے سړی نه چه دے ذلیل دے او نه دے نږدے چه ښکاره خبره اوکړی (٥٢)

فرعونیانو سره اودَ (٣١) سره هم تعلق لری یعنی لکه چه اخری رسول باندے مشرکین مکه طعن کوؤ چه دے مسکین اوغریب دے نوداسے فرعون هم دَموسیٰ په باره کښ اعتراض کړے وؤیعنی دَفرعون په مقابله کښ موسیٰ علیه السلام فقیرمسکین وؤ ﴿يَضْحَكُوْنَ﴾ مراد دَخنداکولونه استهزاء اومسخرے کول دی په دے وصف راوړلو کښ اشاره وه دَ هغوی ډیرے سرکشئی کولوته ځکه چه خنداکوؤنکی سوچ اوفکرنه کوی۔

[٤٨] اشاره ده چه دَدوی خنداکول بے ځایه ووځکه چه دغه ایات واړه اومعمولی نه وو۔ دا اکبریت دَهریوپه زعم دَ لیدونکی کښ دے دَ دے وجے نه چه هغه ټول ایات په لوے والی کښ شریك وو۔ با هره یو زوستئے دَ مخکښ نه لویه وه۔

[٤٩، ٥٠] دا دَ مشرکانو عادت دے چه په سختئے کښ دَ خپلو معبودان باطله نه نا امیده شی او دَ اللّٰه تعالیٰ نه مدد غواړی نوداسے فرعونیانوهم په دُعا دَموسیٰ علیه السلام سره وسیله اونیوله اللّٰه تعالیٰ ته اودا دلیل ووچه دَ دوی کفرعناداً وؤ ﴿يٰٓاَيُّهَا السّٰحِرُ﴾ دَ دوی په اصطلاح کښ عالم ته به ساحر وئیلے کیدلوبادا دَنهایت جهل دَوجے نه چه دوی خپله عادتی خبره نه پریږدی۔

[٥١] هر کله چه فرعون سره دَ ایاتودَموسیٰ علیه السلام اودَ استجابت دَ دُعا دَ هغه نه ویره پیدا شوه چه زما قوم به زمانه مخالفت اوکړی اودَ موسیٰ علیه السلام سره به ملګری شی نودَ خپل قوت مظاهره کوی اوتکبر کوی په دُنیوی بادشاهئی باندے اودَ موسیٰ علیه السلام توهین اوتذلیل کوی اوپه دے کښ اشاره ده عذرد نقض عهد ته هم چه ځه دَموسیٰ سره لوظ دَ دے وجے نه پوره کوؤم نه چه ځاوند دَ قوت یم ﴿وَنَادٰى فِرْعَوْنُ﴾ اعلان دَحکومت په طریقه دَمنادی سره وی دَ دے وجے نه تعبیرئیے په نادیٰ سره اوکړو ﴿وَهٰذِهِ الْاَنْهٰرُ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِيْ﴾ اول جمله کښ نظام قانون ته اشاره وه اوپه دے جمله کښ معاشی نظام ته اشاره ده چه دا دواړه زما په اختیار کښ دی۔

[٥٢] په دے کښ دَموسیٰ علیه السلام تحقیراوسپکوالے کوی ﴿هُوَ مَهِيْنٌ﴾ یعنی قوت دَملکیت اوبادشاهی ئے او مال ئے نیشته نهرونه ئے نیشته کارونه پخپله کوی ﴿وَلَا يَكَادُ يُبِيْنُ﴾ یعنی فصاحت بلاغت ئے نیشته خپل مقصد صاف نشی بیانولے اودا دواړه خبرے دَ دهٔ ښکاره دروغ وؤ ځکه چه موسیٰ علیه السلام خو ډیر عزت مند شریف اخلاقووالا خائسته صورت والا وؤحدیث دَبخاری اومسلم کښ راغلی دی نبی علیه السلام فرمائیلی

فَلَوْلَآ اُلْقِيَ عَلَيْهِ اَسْوِرَةٌ مِّنْ ذَهَبٍ اَوْ جَآءَ مَعَهُ الْمَلٰٓئِكَةُ مُقْتَرِنِيْنَ ﴿٥٣﴾ فَاسْتَخَفَّ قَوْمَهٗ فَاَطَاعُوْهُ ؕ
اِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمًا فٰسِقِيْنَ ﴿٥٤﴾ فَلَمَّآ اٰسَفُوْنَا انْتَقَمْنَا مِنْهُمْ فَاَغْرَقْنٰهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿٥٥﴾ فَجَعَلْنٰهُمْ سَلَفًا وَّمَثَلًا
لِّلْاٰخِرِيْنَ ﴿٥٦﴾ وَلَمَّا ضُرِبَ ابْنُ مَرْيَمَ مَثَلًا اِذَا قَوْمُكَ مِنْهُ يَصِدُّوْنَ ﴿٥٧﴾ وَقَالُوْٓا ءَاٰلِهَتُنَا خَيْرٌ اَمْ هُوَ ؕ مَا ع ١٣

نو ولے نه شی راغورځیدلے په دهٔ باندے کړئے دَ سرو زرو یا نه راځی دَ دهٔ سره ملائك چه صفونه ئیے ترلے وی (٥٣) نو دهوکه ئے کړو قوم خپل نوهغوی دَ دهٔ تابعداری اوکړه یقیناً هغوی وؤ قوم نافرمان (٥٤) نو هر کله چه دوی خفه کړو مونږه بدله مو واخستله دَ دوی نه نو غرق کړل مونږ دا ټول (٥٥) نو اوګرځول مونږ دوی تیر شوے نمونه او عبرت د پاره دَ روستنو (٥٦) او هر کله چه ذکر کړے شی ځوئیے دَ مریم دَ مثال په طور باندے د غه وخت ستا قوم دَ دے وجے نه شور کوی (٥٧) او وائي ایا زمونږ معبودان غوره دی یا دے نه

دی، چه ما دَ اسراء په شپه کښ موسیٰ علیه السلام لره اولیدلوچه سړے سور رنګ ته مائل غنم رنګ دنګ قدوالا ګنګوچے ویختووالا ووګویاکه دے دَسړودَ شنوء قبیلے نه وو۔ اودَ موسیٰ علیه السلام رعب وؤپه فرعون باندے او دارنګ موسیٰ علیه السلام ډیرفصیح اوبلیغ وو که چرے دَ هغه په ژبه کښ غوټه وه ورړو کوالی کښ نوپه دُعا(واحلل عقدة من لسانی) سره ختم شویوه۔لیکن دا دَ متکبرینو عادات دی چه په دروغو اوصافو سره حق پرست خلق موصوف کوی۔

[٥٣] دا هم تحقیراوتکذیب دَ موسیٰ علیه السلام کوی په طریقه دَ قیاس دَ رسولانو دَ اللّٰه تعالیٰ په قاصدانو دَ بادشاهانو دَ دُنیا۔ په هغه زمانه کښ چه هغوی به قاصد خپل ته چه هغه به ډیر مقرب وؤ په لاسونوکښ دَسرو زرو بنګړی اوکنګن اچول او دَ هغه په ملګرتیا کښ به ئیے ډیر خدمتګاران روانول دَ دے وجے نه فرعون په موسیٰ علیه السلام باندے دا دواړه اعتراضونه اوکړل او ثابتول ئیے چه دے رسول نه دے۔

[٥٤] ﴿فَاسْتَخَفَّ قَوْمَهٗ﴾ دا محکښ دعویٰ دَ فرعون اوسپکوالے دَ موسیٰ علیه السلام سبب اوګرځید دَجهل دَقوم دَ فرعون دپاره اودغه جهل سبب شودَ اطاعت دَ هغوی فرعون لره۔

فائده: طریقه دَ پیرانواوعالمانوباطل پرستوهم دَفرعون پشان ده چه دوی خپل مریدان شاګردان دَعلم دَقرآن اوسنّت اودَتحقیق نه منع کوی دَپاره دَ دے چه جاهلان پاتے شی نودَ دوی اطاعت به کوی۔

[٥٥] په دے ایت کښ دَ فرعونیانوعذاب ذکرکوی دَپاره دَتخویف دَ نورو منکرینو ﴿فَلَمَّآ اٰسَفُوْنَا﴾ اسف په معنیٰ دَغضب دے اوداهم صفت دَ اللّٰه تعالیٰ دے خومشابه دَ مخلوق سره نه دے۔

[٥٦] ﴿سَلَفًا﴾ داجمع دَسالف ده لکه خدم جمع دَخادم ده یادامصدردے اطلاق ئیے په جماعت باندے هم کیږی اوسلف مطلق متقدمینوته وئیلے کیږی که خیروی او که شروی دَدے وجے نه دَ مدح په وخت کښ دَدے سره قید دَصالح اوصالحین لګیدلے شی۔اوفرق په مینځ دَسلف اومثل کښ یوخووجوهوسره دے اوله وجه داده چه سلف تیر شوی نمونه دَ عذاب اومثل واقعه دَعبرت حاصلولودپاره۔ دویمه وجه سلف دَ هغه چا دَپاره چه دَ دوی پشان عمل ئیے کړے وؤپه زمانه دَدوی کښ اومثل دَهغه چا دَپاره چه روستودَهغوی پشان عمل کوی۔دریمه وجه بنی اسرائیل سلف شوپه نجات موندلوکښ دَ صالحانو دَپاره اوفرعونیان

ضَرَبُوْهُ لَكَ اِلَّا جَدَلًا ؕ بَلْ هُمْ قَوْمٌ خَصِمُوْنَ ﴿۵۸﴾ اِنْ هُوَ اِلَّا عَبْدٌ اَنْعَمْنَا عَلَيْهِ وَ جَعَلْنٰهُ مَثَلًا
لِّبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ﴿۵۹﴾ وَلَوْ نَشَآءُ لَجَعَلْنَا مِنْكُمْ مَّلٰٓئِكَةً فِي الْاَرْضِ يَخْلُفُوْنَ ﴿۶۰﴾ وَ اِنَّهٗ لَعِلْمٌ لِّلسَّاعَةِ فَلَا

ذکر کوی دوی تانه دا خبر مګر دَ ضد دپاره بلکه دوی قوم دے جګړمار(۵۸)نه دے مګریوبنده چه نعمت کړے وؤمونږپه هغه باندے اوګرځولے وؤمونږهغه نمونه دپاره دَبنی اسرائیلو (۵۹) اوکه چرے اوغواړو مونږ نوییدا به کړو ستاسو په بدله کښ ملائك په زمکه کښ چه ستاسو په ځائے به اوسیږی (۶۰) او یقیناً (عیسیٰ علیه السلام) نخه دَ قیامت ده نو

مثل شودَنا کاره خلقودَپاره ﴿فَجَعَلْنٰهُمْ﴾ ضمیردواړوته په جمع سره راجع دے۔

[۵۸،۵۷] دا زجراوتمهید دے واقعے دَعیسیٰ علیه السلام دَپاره۔دَ دے په ربط کښ دَماقبل سره دوه احتمالونه دی اول داچه محکښ جدال اوعناد دَ فرعونیانودَ موسیٰ علیه السلام په مقابله کښ ذکرکړے شونو اوس ضد اوعناد دَمشرکین مکه ذکرکوی په مقابله دَ نبی ﷺ کښ حاصل ئے دا دے چه نبی ﷺ ذکردَ احوالودَ عیسیٰ علیه السلام به وخت په وخت کوؤ دَ اثبات دَ توحید اودَ رد دَ مشرکینودپاره نومشرکینوبه شورکوؤچه دے هروخت دَ عیسیٰ علیه السلام ذکرمونږ ته کوی نو دَ دهٔ مقصد دادے چه زمانه اِله جوړ کړئے لکه چه نصاریٰ دَ عیسیٰ علیه السلام نه اِله جوړ کړے وؤنومعنیٰ دَ ﴿ءَاٰلِهَتُنَا خَيْرٌ اَمْ هُوَ﴾ چه زمونږ اِلهه غوره دی اوکه دَ محمد ﷺ بلکه زمونږ الهه غوره دی۔ دویم احتمال دا دے چه دَ دے ربط دے ایت (۴۵) سره حاصل ئے دا دے چه هرکله اوئیلے چه دَ هیڅ رسول په دین کښ دَ مجعول اِله اجازت نیشته۔ نوهرکله چه دوی په قرآن کښ دَ عیسیٰ علیه السلام ذکر واؤریدلونو دوی شور اوکړوچه ولے عیسیٰ علیه السلام ته الوهیت نه وؤ ورکړے شوے؟ اوهرکله چه عیسیٰ علیه السلام مجعول اله دے نو زمونږ اِلهه دَ دهٔ نه غوره دی نو هغوی هم مجعول الهه دی نومعنیٰ دَ ءَاٰلِهَتُنَا خَيْرٌ اَمْ هُوَ، زمونږ الهه غوره دی اوکه عیسیٰ علیه السلام؛ بلکه زمونږ الهه غوره دی ﴿وَلَمَّا ضُرِبَ ابْنُ مَرْيَمَ مَثَلًا﴾ یعنی هرکله په قرآن کښ دَ مشرکانوپه ردکښ عجزاوعبدیت دَ عیسیٰ علیه السلام په طریقه دَ مثال سره ذکرکړے شی ﴿مَاضَرَبُوْهُ لَكَ اِلَّا جَدَلًا﴾ یعنی دے مشرکانوچه دَ معبودمن دون اللّٰه دَپاره په طور دَ مثال سره دَعیسیٰ علیه السلام نوم ذکرکړے دے نوداصرف دَ ضد اودَ عناد په طریقه دے ځکه چه دوی ښه پوهیږی چه هغه اله نه وؤ۔

[۵۹] روستودَ زجرنه جواب دے دَ دوی دَ جدال په ذکردَحقیقت حال دَ عیسیٰ سره اوپه نفی دَ الوهیت سره دَ هغه نه ﴿اِنْ هُوَ اِلَّا عَبْدٌ﴾ دا رد دے په نصاریٰ اوپه هغه چاچه عیسیٰ علیه السلام لره دَ الوهیت عقیده لری۔ ﴿اَنْعَمْنَا عَلَيْهِ﴾ دارد دے په یهودیانو اوپه هغه چاچه دَ عیسیٰ علیه السلام دَ نبوت نه انکارکوی ځکه مراد دَ انعام نه نعمت دَ نبوت دے﴿وَجَعَلْنٰهُ مَثَلًا لِّبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ﴾ دا رد دَ وهم دَ هغه چاچه دلیل نیسی دَ هغه دَ الوهیت دَپاره په پیدائش دَ هغه بغیردَ نارینه نه؛ حاصل داچه داسے پیدائش دَ عیسیٰ دَ بنی اسرائیلو دلیل اوعبرت دَ قدرت دَ اللّٰه تعالیٰ دے۔

[۶۰] دا دویم رد دے په هغه چاچه دَ عیسیٰ علیه السلام دَ عجیب پیدائش نه دلیل نیسی دَ هغه په الوهیت باندے حاصل دادے چه حال دَ عیسیٰ علیه السلام اګرچه عجیبه دے لیکن اللّٰه تعالیٰ دَ دینه په زیات عجیبه باندے قدرت

تَمْتَرُنَّ بِهَا وَاتَّبِعُوْنِ ؕ هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيْمٌ ﴿٦١﴾ وَلَا يَصُدَّنَّكُمُ الشَّيْطٰنُ ۚ اِنَّهٗ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ﴿٦٢﴾ وَلَمَّا جَآءَ
عِيْسٰى بِالْبَيِّنٰتِ قَالَ قَدْ جِئْتُكُمْ بِالْحِكْمَةِ وَلِاُبَيِّنَ لَكُمْ بَعْضَ الَّذِيْ تَخْتَلِفُوْنَ فِيْهِ ۚ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَ
اَطِيْعُوْنِ ﴿٦٣﴾ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ رَبِّيْ وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْهُ ؕ هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيْمٌ ﴿٦٤﴾ فَاخْتَلَفَ الْاَحْزَابُ مِنْۢ بَيْنِهِمْ ۚ

شك مه كوئے په قيامت كښ او تابعداری او كړئے زما دا لار نيغه ده (٦١) اووانه روی تاسو لره شيطان يقيناً دے تاسو لره دُشمن بښكاره دے (٦٢) او هر كله چه راغے عيسىٰ(عليه السلام) په بښكاره دليلونو سره اُوئيل هغه يقيناً راوړی دی ماتاسو ته دَ پوهے خبرے او دے دپاره چه وضاحت او كړم تاسوته دَ بعضے هغه خبرو چه تاسو اختلاف كوئے په هغے كښ نو ويريږئ دَ اللّٰه تعالىٰ نه او تابعداری كوئے زما (٦٣) يقيناً اللّٰه تعالىٰ هغه رب زما او رب ستاسو دے نو بندگی دَ هغه خاص كړئے دا لار نيغه ده (٦٤) نو مختلف شولے دِلے په مينځ خپل كښ

لری هغه داچه ستاسونه ملائك پيدا كړی يا ستاسو په بدل كښ ملائك په زمكه كښ ابادكړی ليكن دا مستلزم نه دے چه ملائك دِ الهه شی ځكه په دے عجيبه طريقو سره څوك دَ مخلوقيت او دَ عبديت نه نهٔ اوځی۔

[٦٢،٦١] په متعلق دَ عيسىٰ(عليه السلام) بله فائده ذكر كوی چه دلالت كوی دَ عيسىٰ(عليه السلام) په عظمت باندے ﴿لَعِلْمٌ لِّلسَّاعَةِ﴾ يعنی نزول دَ عيسىٰ(عليه السلام) سبب دَ علم دَ قيامت دے يا عِلم په معنیٰ دَ علامة دے۔ او اِنَّهٗ، په ضمير كښ دويم احتمال دا دے چه قرآن ته راجع دے يعنی نصوص دَ قرآن سبب دَ علم دَ قيامت دے۔ ليكن په دے احتمال سره دَ كلام ربط نه رائی دَ ماقبل سره ﴿وَاتَّبِعُوْنِ﴾ روستودَ تفصيل دَحال دَ عيسىٰ(عليه السلام) اودَ دفع كولودَ شبهاتونه امردے په اتباع دَ رسول اللّٰه(ﷺ) په تقديردَ (قل) سره اودَ دے مناسبتِ لطيفه دا دے چه عيسىٰ(عليه السلام) روستو دَ نزول نه مكلف به وی به اتباع دَ محمد(ﷺ) سره۔ اوهر كله چه په باره دَ عيسىٰ(عليه السلام) اودَ اتباع دَ سنت دَ رسول اللّٰه(ﷺ) كښ شيطان پير شبهات اچوی ۔نوتنبيه ئے ذكر كړه په دے قول سره ﴿وَلَا يَصُدَّنَّكُمُ الشَّيْطٰنُ﴾ كه شيطان جنی او كه انسی وی لكه چه په دے زمانه كښ قاديانان (شيطان انسيه) په باره دَ حيات عيسىٰ او نزول عيسىٰ(عليه السلام) كښ شبهات پيدا كوی ليكن دَهغے شبهاتودَ ازالے دپاره دَ قرآن علم ضروری دے اوپه اتبعونِ باندے عمل پكار دے۔

[٦٤،٦٣] هر كله چه دَ عيسىٰ(عليه السلام) عظمت دَشان اوصدق بيان شونواوس دَ هغه دَ طرف نه دعوت دَ توحيد ذكر كوی په طريقه دَ دليل نقلی سره او رد په يهوديانو او نصاریٰ اومشركين عرب باندے ﴿بَعْضَ الَّذِيْ تَخْتَلِفُوْنَ فِيْهِ﴾ مراد دا دے چه تورات كښ بعض احكام او بعض محرمات وؤ نو دَ انجيل په راتللو سره هغه منسوخ شول او په هغے كښ تخفيف او اسانتيا وه په بنی اسرائيلو باندے يا دَ دے نه مراد تحريفات دَ تورات دی او بعض په معنیٰ دَ كل سره دے يا مراد ترينه هغه مسائل دی چه اخباروَ يهودودَ ځان نه جوړ كړی وو نوبيا هم بعض په معنیٰ دَكل سره دے يا مراد ترينه هغه مسائل دَ دين دی چه احبارو په هغے كښ اختلاف جوړ كړے وؤ دَ هغے وضاحت عيسىٰ(عليه السلام) او كړو۔

فَوَيْلٌ لِّلَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مِنْ عَذَابِ يَوْمٍ اَلِيْمٍ ﴿٦٥﴾ هَلْ يَنْظُرُوْنَ اِلَّا السَّاعَةَ اَنْ تَاْتِيَهُمْ بَغْتَةً وَّهُمْ لَا
يَشْعُرُوْنَ ﴿٦٦﴾ اَلْاَخِلَّآءُ يَوْمَئِذٍۢ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ اِلَّا الْمُتَّقِيْنَ ﴿٦٧﴾ يٰعِبَادِ لَا خَوْفٌ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ وَلَآ اَنْتُمْ
تَحْزَنُوْنَ ﴿٦٨﴾ اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاٰيٰتِنَا وَكَانُوْا مُسْلِمِيْنَ ﴿٦٩﴾ اُدْخُلُوا الْجَنَّةَ اَنْتُمْ وَاَزْوَاجُكُمْ تُحْبَرُوْنَ ﴿٧٠﴾ يُطَافُ
عَلَيْهِمْ بِصِحَافٍ مِّنْ ذَهَبٍ وَّاَكْوَابٍ ۚ وَفِيْهَا مَا تَشْتَهِيْهِ الْاَنْفُسُ وَتَلَذُّ الْاَعْيُنُ ۚ وَاَنْتُمْ فِيْهَا

نو تباهی ده ظالمانو لره دَ عذاب دَ ورځے درد ناکے نه (٦٥) انتظار نه کوی دوی مګر دَ قیامت چه رابشی دوی ته ناګهه او دوی به نه پوهیږی (٦٦) دوستان به په دغه ورځ بعضِ دَ دوی دَ بعضو دپاره دُشمنان شی مګر متقیان (٦٧) (اوبه وئیلے شی دوی ته) اے بندګانو زما نیشته ویره په تاسو باندے نن ورځ او نه به تاسو غمژن کیږئے (٦٨) هغه کسان چه ایمان ئیے راوړے دے په ایاتونو زمونږ او ووُ دوی مسلمانان (٦٩) داخل شئے جنت ته تاسو او جوړئے ستاسو نعمتونه به درکیدے شی (٧٠) ګرځولے به شی په دوی باندے کاسے دَ سرو زرو او ګلاسونه او په هغے کښ هغه څیزونه دی چه غواړی دَ دوی نفسونه او مزه پرے اخلی سترګے او تاسو به په هغے کښ

[٦٥] دا جواب دَ سوال دے سوال دا دے چه دَعیسیٰ علیه السلام دین که چرے توحید وے نوروستوخلقوولے دَ هغے مخالفت او کړوحاصل دَ جواب دا دے چه روستوَ دَ رفع دَ عیسیٰ علیه السلام نه په دوی کښ ډلے پیداشوے او تحزب اوتعصب کښ راغلل نو دا سبب دَ اختلاف شو۔

[٦٦] داهم تخویف اُخروی دے اختلاف کوؤنکودَپاره۔

[٦٧] دَدے ایت نه تراَخرَ سورة پورے دریم باب دے په دے کښ بشارت تفصیلیه بیا تخویف تفصیلی سرهٔ دَ سبب عذاب نه ذکرکوی بیا زجرونه دی اوتفصیل دَ توحید دے سرهٔ دَ دلیلونونه، نفی دَ ولد،نفی دَ شرك فی الالوهیة، نفی دَ شرك فی البرکات، نفی دَشفاعت قهریه دے اوبه آخرکښ تسلّی ده رسول الله ﷺ ته اوامردے په برائة سره دَمشرکانونه۔په دے(٦٧)کښ دَمشرکانو اودَ مؤحدینودَ دوستانے دُنیوی عاقبت ذکرکوی چه دَ مشرکانودَ دوستانے عاقبت به په آخرت کښ دُشمنی وی او دَ یوبل نه به برائت کوی چه هغه په مختلف سورتونوکښ ذکرکړے شویده۔اودَ دے ایت نه تر(٧٣)پورے بشارت، مشتمل دے په دوُنس امورو باندے او ورسره سبب دَ بشارت هم ذکر دے نوپه دے ایت کښ دَ متقینودَ دوستانے دوام ذکرکوی اودا اوّل بشارت دے۔

[٦٨] په دے کښ دویم اودریم بشارت ذکرکړے عدم خوف او عدم حزن۔

[٦٩] په دے ایت کښ دوه سببونه دَ بشارت ذکرکوی اول ایمان بالآیات او دویم اسلام یعنی پوره انقیاد ظاهری اوباطنی۔

[٧٠] دا جواب دَ نداء دے (یاعباد) اوبه دے کښ نور درے بشارتونه ذکرکوی ۔

خٰلِدُوْنَ ﴿٧١﴾ وَتِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِيْٓ اُوْرِثْتُمُوْهَا بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿٧٢﴾ لَكُمْ فِيْهَا فَاكِهَةٌ كَثِيْرَةٌ مِّنْهَا تَاْكُلُوْنَ ﴿٧٣﴾
اِنَّ الْمُجْرِمِيْنَ فِيْ عَذَابِ جَهَنَّمَ خٰلِدُوْنَ ﴿٧٤﴾ لَا يُفَتَّرُ عَنْهُمْ وَهُمْ فِيْهِ مُبْلِسُوْنَ ﴿٧٥﴾ وَمَا ظَلَمْنٰهُمْ وَلٰكِنْ
كَانُوْا هُمُ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٧٦﴾ وَنَادَوْا يٰمٰلِكُ لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّكَ ؕ قَالَ اِنَّكُمْ مّٰكِثُوْنَ ﴿٧٧﴾ لَقَدْ جِئْنٰكُمْ بِالْحَقِّ
وَلٰكِنَّ اَكْثَرَكُمْ لِلْحَقِّ كٰرِهُوْنَ ﴿٧٨﴾ اَمْ اَبْرَمُوْٓا اَمْرًا فَاِنَّا مُبْرِمُوْنَ ﴿٧٩﴾ اَمْ يَحْسَبُوْنَ اَنَّا لَا نَسْمَعُ سِرَّهُمْ

همیشه ئیے (۷۱) او دا هغه جنت دے چه درکړے شو تاسو ته په وجه د هغه عملونو چه تاسو کول (۷۲) تاسو لره په هغے کښ میوے ډیرے دی بعضِ د هغے نه تاسو خورئے (۷۳) یقیناً مجرمان به په عذاب د جهنم کښ همیشه وی (۷٤) نه به شی کمیدلے د دوی نه او دوی به په هغے کښ نا اُمیده وی (۷۵) او ظلم نه دے کړے مونږ په دوی باندے لیکن وؤ دوی ظالمان (۷٦) او اواز به اوکړی دوی اے مالکه فیصله د مرګ دے اوکړی په مونږ باندے ستا رب اوبه وائي یقیناً تاسو به ایسار ئیے (۷۷) یقیناً راوړے دے مونږ تاسو ته حق لیکن ډیر ستاسونه حق لره بدګنړی (۷۸) ایا کلکه کړے موده یوه خبره نو یقیناً مونږ هم کلکوؤنکے یو (۷۹) ایا ګمان کوی دوی چه مونږ نه اورو پټے خبرے د دوی

[۷۱] په دے ایت کښ نورپنځه بشارتونه دی۔ یعنی دا دواړه قسمه لوښی به دَسرو زرو وی۔ اهل جنت کښ مختلف قسمونه دی دَچالوښی به د سروزرو وی اودَچابه دَسپینوزرو وی لکه سورة دهر (۵۰) کښ ﴿مَاتَشْتَهِيْهِ الْاَنْفُسُ﴾ مشتهیات دَنفس عام دی که دَجنس دَملموساتونه وی او که د مذوقاتونه وی او که د مسموعاتونه وی او که د مشموماتونه وی او که د معقولاتونه وی ﴿وَتَلَذُّ الْاَعْيُنُ﴾ داصرف مبصراتوته شامل دے او دا هرکله چه د سیل او تفریح سره تعلق لری او په دے کښ لوئے څیز دیدار د اللّٰه تعالیٰ دے نو دا ئیے د دے وجے نه جدا ذکرکړو۔ نیشاپوری د قفال نه روایت کړے دے چه په دے دواړو جملوکښ اللّٰه تعالیٰ هغه نعمتونه جمع کړی دی که ټول مخلوق د هغے په تفصیلاتو باندے شروع شی نو پوره کولے نشی۔

[۷۲] په دے ایت کښ ئیے سبب د حصول د جنّت ذکرکړے دے۔

[۷۳] په دے کښ آخری بشارت ذکرکوی چه د خوراك څکاك نه روستو فواکه(میوے) دی۔

[۷٤،۷۵،۷٦] دا تخویف اُخروی دے اوپه مقابل د بشارت کښ دے خوتخویف ئیے په نصف دَبشارت ذکرکړے دے یعنی په شپږطریقوسره۔ اوّل ایت کښ دوه تخویفونه دویم ایت کښ هم دوه دی او په دریم ایت کښ سبب د عذاب ذکرکړوچه هغه ظلم (شرك وکفر) دے۔

[۷۷] په دے کښ دوه تخویفونه ذکرکوی۔ فریادونه کول مالك ته دپاره د مرګ غوښتلو اوجواب په ماکثون سره ﴿يٰمٰلِكُ﴾ دَجهنم خازن ملك دَپاره نوم دے ﴿اِنَّكُمْ مّٰكِثُوْنَ﴾ اومراد د مٰكِثُ نه همیشه اوسیدل دی لکه چه په باره د جنّت کښ سورة کهف (۳) کښ تیرشوی دی۔

[۷۸] په دے کښ ذکر دے سبب د عذاب اوپه دے خطاب کښ دوه احتمالونه دی اول داچه دا د مالك د طرف نه خطاب دے دویم داچه دا د اللّٰه تعالیٰ د طرف نه خطاب دے ﴿اَكْثَرَكُمْ﴾ مراد دَاکثرنه د دوی مشران دی هغوی دَحق نه نفرت کوؤ اونورود هغوی تقلید کوؤاود حقیقت نه خبرنه وو۔

[۷۹،۸۰] په دے ایاتونو کښ زجردے ﴿اَمْ اَبْرَمُوْٓا﴾ یعنی صرف دَحق په بدګنړلوباندے اکتفاء نه کوی

وَنَجْوٰىهُمْ ؕ بَلٰى وَرُسُلُنَا لَدَيْهِمْ يَكْتُبُوْنَ ﴿٨٠﴾ قُلْ اِنْ كَانَ لِلرَّحْمٰنِ وَلَدٌ ۖ فَاَنَا اَوَّلُ الْعٰبِدِيْنَ ﴿٨١﴾ سُبْحٰنَ
رَبِّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ رَبِّ الْعَرْشِ عَمَّا يَصِفُوْنَ ﴿٨٢﴾ فَذَرْهُمْ يَخُوْضُوْا وَيَلْعَبُوْا حَتّٰى يُلٰقُوْا يَوْمَهُمُ
الَّذِيْ يُوْعَدُوْنَ ﴿٨٣﴾ وَهُوَ الَّذِيْ فِي السَّمَآءِ اِلٰهٌ وَّفِي الْاَرْضِ اِلٰهٌ ؕ وَهُوَ الْحَكِيْمُ الْعَلِيْمُ ﴿٨٤﴾ وَتَبٰرَكَ

او جرګې دَ دوی هاں (ولے نه) او ملائك زمونږ دَ دوی سره دی چه لیکل کوی (٨٠) ته اُوایه که چرے وی دَ رحمان دپاره ولد نو ځه به ووم اول بندګی کوؤنکے دَهغه (٨١) پاك دے رب دَ اسمانونو او دَ زمکے رب دَ عرش دَ هغه خبرونه چه دوی بیانوی (دَ هغه په باره کښی) (٨٢) نو پریږده دوی چه ورننوځی په باطلو خبرو کښی او لوبے کوی تر هغے پورے چه مخامخ به شی دَ هغه ورځ دَ دوی سره چه دوی سره ئیے وعده کیدیشی (٨٣) او الله تعالیٰ هغه دے چه په اسمان کښی واکدار دے او په زمکه کښی واکدار دے او هغه حکمتونو والا دے پوهه دے په هر څیز (٨٤) او برکتونو والا دے

بلکه دَحق په مقابله کښی تدبیرونه اوچلونه جوړوی دَ نبیﷺ دَ قتل اودَ توحید ختمولو دَپاره اَبرَام، کلکه اوقطعی فیصلے کولوته وئیلے کیږی نو هغه داسے تدبیر وی چه په ګټړه سره ئیے اوکړی۔ دَ یحییٰ بن معاذﷺ نه نقل دے، چه څوك دَ خلقونه ګناهونه پټ ساتی او هغه ذات ته ئیے ښکاره کوی چه دَ هغه نه هیڅ په آسمانونو کښی پټ نه دے نودائیے دَ الله تعالیٰ ډیره بے عزتی اوکړه او دا دَ علاماتو دَ منافقت نه ده۔

[٨١] په دے ایت کښی رد دَ عقیدے دَ ولد دے دَ الله تعالیٰ دَپاره دَ سورة دَ اوّل(١٥)سره تعلق لری یا دَ (٤٥)سره متعلق دے یعنی که مشرکان اُوائي چه مجعول اِله نیشته لیکن ولد دَ الله تعالیٰ شته نوعبادت دَ هغه جائزشونوپه دے ایت کښی دَ هغے رد دے په دے ایت کښی ډیراحتمالات دی دَ دے یومعنیٰ دا ده که چرے بالفرض دَ رحمان دَپاره ولد وی نوځه به اول عبادت کوؤنکے دَدغه ولد وے وجه دَ ملازمے دا ده چه تعظیم دَ ولد دَ رحمان فرض دے پشان دَ تعظیم دَ رحمان اودَ فرض په اداکولو کښی خوځه ستاسونه مخکښی یم ځه دَ الله تعالیٰ مقرب رسول یم۔ لیکن تالی باطل دے یعنی ځه خودَ الله تعالیٰ نه سیوا دَ بل چا عبادت نه کووم نو معلومه شوه چه مقدم باطل دے یعنی ولد دَ الله تعالیٰ نیشته۔ او دویمه معنیٰ دا ده که چرے دَ رحمان ولد وی نوځه به هم دَ رحمان عبادت کوؤم اودَ ولد ئیے نه کوم وجه دَ ملازمے دا ده چه ځه عبادت په امر دَ الله تعالیٰ سره کوؤم او الله تعالیٰ مونږ ته داسے امرنه دے کړے چه فلانے زما ولد دے او دَ دهٔ عبادت به کوئے۔

[٨٢] داهم تردید دے په اتخاذ الولد باندے په بله طریقے سره هغه دا دے چه دَ صفت دَ ربوبیت دَعالمینواواتخاز ولد په منیځ کښی تضاد دے ځکه ولد که حقیقتاً شی نومستلزم دے احتیاج لره اورب العالمین محتاج نشی کیدے اودرے اطراف دَ عالم ئیے ذکرکړے دی عرش چه اوچت دے او زمکه چه کوزه ده اوآسمانونه چه په منیځ کښی دی یعنی الله تعالیٰ په هیڅ جزء دَ دنیا کښی ولد(نائب ته) محتاج نه دے۔

[٨٣] روستودَ ذکردَ دلیلونونه زجردے اعراض کوؤنکوته چه هغوی مشغول دی په شبهاتوکښی اودے ته خوض وئیلے کیږی یا مشغول دی په شهواتوکښی چه هغے ته لعب وئیلے کیږی۔

[٨٤] داهم رد دے په عقیده دَ اتخاذ الولد باندے او رد دَ وهم دے وهم دا وؤ اکر چه الله تعالیٰ رب دَعالم

الَّذِیْ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَیْنَهُمَا ۚ وَعِنْدَهٗ عِلْمُ السَّاعَةِ ۚ وَاِلَیْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۸۵﴾ وَلَا
یَمْلِكُ الَّذِیْنَ یَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهِ الشَّفَاعَةَ اِلَّا مَنْ شَهِدَ بِالْحَقِّ وَهُمْ یَعْلَمُوْنَ ﴿۸۶﴾ وَلَىِٕنْ سَاَلْتَهُمْ
مَّنْ خَلَقَهُمْ لَیَقُوْلُنَّ اللّٰهُ فَاَنّٰی یُؤْفَكُوْنَ ﴿۸۷﴾ وَقِیْلِهٖ یٰرَبِّ اِنَّ هٰۤؤُلَآءِ قَوْمٌ لَّا یُؤْمِنُوْنَ ﴿۸۸﴾ فَاصْفَحْ عَنْهُمْ
وَقُلْ سَلٰمٌ ؕ فَسَوْفَ یَعْلَمُوْنَ ﴿۸۹﴾

وقف لازم

هغه ذات چه دَ هغه په اختیار کښ بادشاهي دَ اسمانونو او دَ زمکے او دَ مینځ دَ دے دواړو ده او خاص دَ هغه سره علم دَ قیامت دے او خاص هغه ته به اوګرځولے شئے تاسو (۸۵) او وس نه لری هغه کسان چه دوی ورته رامددشه وائي سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه دَ سفارش کولو مګرهغه څوك چه اقرار ئے کړے وی دَ حق او هغوی علم لری (۸۶) او که چرے تپوس اوکړے ته دَ دوی نه چه چا پیدا کړیدی (دا شفعاء) خامخا دوی به اُوائي اللّٰه تعالیٰ نو څه رنګ اوړیدلے کیږی دوی دَ توحید نه (۸۷) او قسم دے په وینا دَ ده چه اے ربه یقیناً دا داسے قوم دے چه ایمان نه راوړی (۸۸) نو مخ واړوه دَ دوی نه او اُوایه سلام دَ جدائے نو زر ده چه دوی به پوهه شی (۸۹)

دے لیکن امکان شته چه په الوهیت کښ ئے بل چاله حصّه ورکړیوی نو هغه ولد یا شریك دَ اللّٰه تعالیٰ به وی نو جواب اوشو په طریقه دَ رد دَ شرك فی الالوهیة سره۔

[۸۵] دا رد دے په شرك فی البرکات باندے اودفع دَبل وهم ده وهم دا دے چه واقعی اللّٰه تعالیٰ رب دے اله دے لیکن کیدے شی چه دَبعض برکاتو اومنافعو پیداکولواختیار وقدرت ئے بل چاته سپارلے وی نوهغه به ولد یاشریك شی حاصل دَ جواب دا دے چه بادشاهی دَ آسمانونو اوزمکے اوعلم دَ فنا دَدے چه په قیامت کښ به وی اورجوع دَټولوفیصلواللّٰه تعالیٰ ته داټول دَ اللّٰه دَپاره دی نومعلومه شوه چه برکات پیدا کوؤنکے هم اللّٰه تعالیٰ دے۔

[۸۶] دا جواب دے دَ مشهورے شبهے هغه دا ده چه مشرکان وائي چه مونږخپلومعبودانوته الهه نه وایو رب اوخالقان ورته نه وایوصرف دا چه زمونږدَ دُنیا حاجتونه په اللّٰه تعالیٰ باندے پوره کوی اوآخرت کښ به هم مونږه دَ اللّٰه تعالیٰ دَ عذاب نه بچ کوی ځکه چه دوی دَاللّٰه تعالیٰ محبوبان اومخوریزخلق دی اللّٰه تعالیٰ مجبوراً دَ دوی خبره منی جواب اوشوپه رد دَ دے عقیدے سره لیکن په دے ایت کښ رد دَ شفاعت دَ آخرت دے مشرکانولره یارد دَ شفاعت دے په آخرت کښ دَ هغه معبودانونه چه عقیده دَتوحید پکښ نه وی یعنی مشرکان پیران وی ﴿وَهُمْ یَعْلَمُوْنَ﴾ قرطبی دَ دے په تفسیرکښ لیکلی دی چه شهادت بالحق فائده نه ورکوي مګر سره دَ علم نه او تقلید فائده نه ورکوی کله چه سړے علم نه لری په دلیل دَ خبرے باندے۔

[۸۷] دا دلیل عقلی دے اوپه دے کښ هم رد دے په شفاعة قهریه باندے یعنی ستاسو شفعاء خوستاسوپه اقرارسره هم مخلوق دی نومخلوق څه رنګه شفیع قهری ګنړئے؟ ﴿مَنْ خَلَقَهُمْ﴾ ضمیردَ هم معبودانوته راجع دے یا عابدانواومعبودانودواړوته راجع دے۔

[۸۸] په دے ایت کښ زجردے ﴿وَقِیْلِهٖ﴾ حاصل دا دے چه دا نبی وخت په وخت دربار دَ اللّٰه تعالیٰ کښ دَ دے منکرینونه شکایت پیش کوی په داسے الفاظوسره چه یارب ان هؤلاء اه، نوپه دے قول باندے

سُوْرَةُ الدُّخَان (۴۴) مَكِّيَّةٌ (۴۴)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اٰيَاتُهَا ۵۹ رُكُوْعَاتُهَا ۳

حٰمٓ ﴿۱﴾ وَالْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ﴿۲﴾ اِنَّآ اَنْزَلْنٰهُ فِيْ لَيْلَةٍ مُّبٰرَكَةٍ اِنَّا كُنَّا مُنْذِرِيْنَ ﴿۳﴾ فِيْهَا يُفْرَقُ كُلُّ اَمْرٍ

حا میم (۱) قسم دے په کتاب بسکاره بیان کوؤنکی باندے (۲) (گواه دے په دے خبره) چه نازل کړیدے مونږ دا قرآن په شپه برکتونو والا کښ یقیناً مونږ ویره ورکوؤنکی یو (۳) په دے شپه کښ فیصله کیږی (په کتاب دَ ملائکو کښ) دَ هر کار

(بقیه تفسیر دَ سورة الزخرف) قسم دے په طوردَشهادت سره چه یقیناً دوی عنادیان دی یاداپیغمبرچه وائي یارب(ان قومی اتخذوا هذا القرآن مهجوراً(فرقان ۳۰) او جواب قسم ان هؤلاقوم لایؤمنون دے۔

[۸۹] داتفریع ده په عناد دَ منکرینوباندے اوحکم دَ معاندینودے چه هغه برائت اوقطع تعلق دے۔ ﴿فَاصْفَحْ﴾ مراد دَ صفح نه اعراض کول دی دّدوی دَمحبت اودوستانے نه یا دَ دوی دَ سب وشتم نه اودا معنیٰ منسوخ نه ده بلکه دا اخلاق دَ مبلّغ په وخت دَ دعوت کښ ضروری دی ﴿وَقُلْ سَلٰمٌ﴾ دیته سلام تودیع اومتارکه وئیلے کیږی سلام تحیه نه دے ځکه چه مشرکانو باندے سلام تحیه جائز نه دے۔

سورة الدخان

ربط: دَ دے سورة دَماقبل سورة سره په ډیرو وجوهو سره دے اوله وجه داده چه په هغه سورة کښ رد وؤ په دلیلونو دَ مشرکانو باندے نو په دے سورة کښ ویره دَ عذاب دُنیوی ذکرکوی۔ دویمه وجه دا ده چه په هغه سورة کښ ذکر دَ قباحت دَ معرضینو دَ قرآن وؤ نو په دے سورة کښ عظمت دَ قرآن او مقصد دَ قرآن ذکرکوی۔ دریمه وجه دا ده په هغه سورة کښ تکبر دَ فرعون په موسیٰ علیه السلام باندے ذکرکړے وؤ اوس په دے سورة کښ کرامت دَ موسیٰ علیه السلام او دَ بنی اسرائیلو ذکرکوی۔

دعویٰ دَ سورة دا ده: تخویف دنیوی منکرینو اومعرضینو دَ قرآن ته دے په (۱۱۰، ۵۹) کښ اوذکرد عظمت دَ قرآن اوذکر دَ عظمت دَ اللّٰه تعالیٰ په اسماء اوصفاتودَ هغه سره۔

خلاصه دَ سورة : په دے سورة کښ دوه بابونه دی اول باب تر(۴۰) پورے دے په دے کښ صدق دَ قرآن اوذکردَ مقصد دَ قرآن چه توحید دَ اسماؤ اوصفاتو دے بیا تخویف دُنیوی دے په ذکر دَ دُخان او دَ بطشة الکبریٰ سره بیا واقعة دَ فرعون نمونه ده دَپاره دَ دعوے دَ سورة او ذکر دَ نعمتونو په بنی اسرائیلو باندے بیا زجر اوتخویف په سبب دَ انکار دَ بعث بعد الموت سره۔

تفسیر

[۲،۱] په دے کښ هغه تفسیر دے چه دَ سورة زخرف په اول کښ ذکرشویدے ﴿الْمُبِيْنِ﴾ په دے سورة کښ ابانت په ذکر دَعذابونو سره دے اوسورة زخرف کښ ابانت په دلیلونو اوپه جواب دَشبهاتو سره وؤ۔

[۳] دا جواب قسم دے یعنی ابانت او وضاحت دَ قرآن شاهد دے چه دا منزل من اللّٰه دے او وخت دَ نزول ئے هم مبارك دے او دَ انذار دپاره پوره کتاب دے ﴿لَيْلَةٍ مُّبٰرَكَةٍ﴾ مراد دَدے نه لیلة القدرده په دلیل

حَكِيْمٍ ۙ﴿٤﴾ اَمْرًا مِّنْ عِنْدِنَا ؕ اِنَّا كُنَّا مُرْسِلِيْنَ ۚ﴿٥﴾ رَحْمَةً مِّنْ رَّبِّكَ ؕ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ۙ﴿٦﴾
رَبِّ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۘ اِنْ كُنْتُمْ مُّوْقِنِيْنَ ﴿٧﴾ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ ؕ
رَبُّكُمْ وَرَبُّ اٰبَآئِكُمُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿٨﴾ بَلْ هُمْ فِيْ شَكٍّ يَّلْعَبُوْنَ ﴿٩﴾ فَارْتَقِبْ يَوْمَ تَاْتِي السَّمَآءُ بِدُخَانٍ

چه حکمت والا وی (٤) په حکم کولو سره زمونږ د طرف نه یقیناً مونږ لیږونکی د رسول یُو(٥)
دَوجې د رحمت ستا د رب د طرف نه یقیناً هغه هر څه اوری په هرڅه باندے پوهه دے (٦) رب د
اسمانونو او د زمکے او د مینځ د دے دواړو دے که چرے تاسو یقین کوئے (٧) نیشته حق دار د بندګئے
سیوا د هغه نه ژوندی کول کوی او مړه کول کوی رب ستاسو او رب د مشرانو ستاسو مخکنو دے
(٨) بلکه دوی په شك کښ دی په لوبو کښ مشغوله دی (٩) نو انتظار او کړه دَهغه ورځے چه ښکاره
به کړی اسمان لوګے

دَسورة قدرسره او لیلة القدرپه رمضان کښ ده په دلیل دَسورة بقره (١٨٥) سره۔ بل داچه په باره دَفضیلت دَ لیلة القدر کښ ډیر صحیح احادیث نقل کړے شویدی او دا فضیلت دَ هغے شپے په سبب دَ نزول دَ قرآن کریم سره دے۔ بعضِ مفسرینو مراد دَ لیلة مبارکه نه پنځلمسه شپه دَشعبان اخستے ده او دَ هغے دَ فضیلت په باره کښ څه احادیث ئیے نقل کړی دی لیکن هغه قول صحیح نه دے اهل تحقیق مفسرینو دَ هغے رد کړے دے۔ قرطبی دَ ابن عربی نه نقل کړی دی چه دا قول باطل دے۔ دارنګ ابن کثیر وئیلی دی چه چا وئیلی دی چه داشپه لیلة النصف دَ شعبان ده لکه چه دَ عکرمه نه نقل شویدی ،فَقَد اَبعَدَ النجعة (یقیناً دَ فائدے نه لرے لاړو) اوکوم احادیث چه په باره دَ فضیلت دَ دغه شپه کښ ذکرکړے شویدی نوپه هغے کښ حدیث صحیح مرفوع متصل نیشته۔ یعنی انزال دَ قرآن ئیے په دے شپه پورے دَدے وجے نه خاص کړے دے چه په دے شپه کښ دَ محکمو کارونو فیصلے کیږی نو انزال دَ قرآن هم محکم کار وؤ نو په دے شپه کښ شروع شو ﴿يُفْرَقُ﴾ تقدیرد ټولواشیاؤ دَ اسمانونودَ پیدائش نه پنځوس زره کاله مخکښ شویدے اودا په صحیح حدیث سره ثابت ده لیکن دَ هغے نه دَیوکال دَپاره مقررشوی ځیزونه اوکارونه جداکړی اوملائکو ته ئیے اوسپاری او دا جدا کول په لیلة القدر کښ وی دَ دے وجے نه یفرق ئیے اُوئیل چه دلالت کوی په جدا کولو باندے۔

[٦] دا ترغیب دے چه نازلول دَ قرآن اوانذار ورکول او رسول رالیږل داټول دَ رب دَ طرف نه خاص رحمت دے۔ اودارنګ دا جمله خلاصه دَ قرآن اودَ انذاراودَ رسالت ده چه دا توحید دے۔ دَ دے وجه نه په روستودوه ایاتونوکښ دَ تاکید دَ دے مسئلے دپاره نور صفتونه په طریقه دَ استدلال ذکرکوی او دا اسماء وصفات ئیے نهه ذکرکړی دی۔

[٧،٨] مخکښ ئیے درے صفتونه ذکرکړی دی اوپه دے دواړه ایاتونوکښ شپږنورذکرکوی۔ اومقصود په دے کښ اثبات دَ توحید دے اواظهار دَ عظمت دَ اللّٰه تعالیٰ دَپاره دَ عظمت دَ قرآن دے۔

[٩] دا زجردے یعنی دَ دوی یقین په خالقیت او ربوبیت دَ اللّٰه تعالیٰ باندے حقیقی یقین نه دے بلکه په طریقه دَ تقلید دَ مشرانو دے نو معلومه شوه چه دوی په شك کښ دی او دَ دے سره چه دوی په کوم افعال

مُّبِيْنٍ ﴿۱۰﴾ يَّغْشَى النَّاسَ ؕ هٰذَا عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۱۱﴾ رَبَّنَا اكْشِفْ عَنَّا الْعَذَابَ اِنَّا مُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۲﴾ اَنّٰى
لَهُمُ الذِّكْرٰى وَقَدْ جَآءَهُمْ رَسُوْلٌ مُّبِيْنٌ ﴿۱۳﴾ ثُمَّ تَوَلَّوْا عَنْهُ وَقَالُوْا مُعَلَّمٌ مَّجْنُوْنٌ ﴿۱۴﴾ اِنَّا
كَاشِفُوا الْعَذَابِ قَلِيْلًا اِنَّكُمْ عَآئِدُوْنَ ﴿۱۵﴾ يَوْمَ نَبْطِشُ الْبَطْشَةَ الْكُبْرٰى ۚ اِنَّا مُنْتَقِمُوْنَ ﴿۱۶﴾

وقف لازم

بنکاره (۱۰) پتوی به خلقو لره دا عذاب درد ناك دے (۱۱) (وائي به دوی) اے ربه زمونږ لرے کړه زمونږ نه عذاب یقیناً مونږ ایمان راوړو (۱۲) څه رنګ کیدے شی دوی دپاره نصیحت اخستل او حال داچه راغلے دے دوی ته رسول بنکاره پیغمبرئے والا (۱۳) بیا دوی مخ ګرځولے دے دَ هغه نه او دوی وائي چه دهٔ ته چا خودنه کړیده لیونے دے (۱٤) یقیناً مونږ به لرے کړو عذاب لږه موده یقیناً تاسو بیا راګرزئے (کفرته) (۱۵) نو په هغه ورځ چه نیول او کړو مونږ نیول غټ یقیناً مونږ بدله اخستونکی یو (۱٦)

شرکیه او کفریه کښ مشغول دی نو هغه ټول لعب دی چه دَ هغے هیڅ فائده نیشته اودَ عمر ضائع کیدل پکښ شته۔

[۱۰ نه ۱۵ پورے] دا تخویف دُنیوی دے په واقعه دَ دُخان سره اوپه دے کښ دوه قولونه دَ مفسرینو دی۔ اول قوم امام بخاری په سند سره دَ عبد اللّٰه بن مسعودﷺ نه نقل کړے دے مضمون ئے دا دے،، چه قریشو هر کله دَ نبیﷺ نه سخت مخالفت او کړو نو هغه ورته دُعاءِ شر (خیرے) او کړه چه یا اللّٰه په دوی باندے کالونه دَ قحط راولے پشان دَکالونودَ قحط په زمانه دَیوسفﷺ کښ نوپه دوی باندے قحط شروع شوترڅو پورے چه دوی به هلوکی خوړل اویوتن به آسمان ته کتل نوداسے به ورته بنکاره کیدل لکه چه دخان وی نودا ایاتونه نازل شول بیا هغوی رسول اللّٰهﷺ ته راغلل چه یارسول اللّٰه دَ قبیلے مضر(چه ستا خپلوان دی) دَپاره دُعا اوغواړه ځکه چه هغوی هلاك شول نو هغه دُعا دَ باران اوغوختله نوباران اوشو او نازل شو چه انکم عائدون،، دَ دے حدیث په بنا مراد دَ دخان نه قحط دے چه په هغه وخت دَ دخان په مثل باندے دَ زمکے نه براس او غبار اوچت شویوؤ اوبنکاره کیدلواو دَ الناس نه مراد صرف مکے والادی۔ دویم قول دَعلی اوابن عباسﷺ نه نقل دے اودَ ابوسعید خدریﷺ نه مرفوعاً نقل دے، چه دخان به را اوچت شی په ټولوخلقوباندے نوپه مؤمن باندے به پشان دَ زکام وی اودَ کافرټول بدن به پرے اوپړسیږی، اوپه دے روایت کښ دَیوم القیامة نه مراد قریب دَ ورځ دَقیامت ده ځکه په حدیث صحیح دَمسلم کښ راغلی دی چه دَقیامت نه ړواندے لس لوئے علامات دی اول ئے په هغے کښ دُخان شمارلے دے اوبنا په دے قول دخان به حقیقتاًوی اوځو ورځے پس به لرے شی اوبل علامت به شروع شی(ځهٔ وایم) چه الفاظ دَ قرآن دَ دواړوسره موافقت لری لیکن اول قول زیات مناسب دے یعنی دا دُخان په مکه والوباندے واقع شویدے اوبل دخان به په علاماتِ قیامت کښ په ټولوخلقوباندے راځی ﴿اِنَّا كَاشِفُوا الْعَذَابِ قَلِيْلًا﴾ بناء په اول قول باندے وعده دَ لرکولودَ عذاب ده په سبب دَ دُعا دَنبیﷺ اوپه دویم قول باندے دَعلامات قیامت په مینځ کښ چه لږلږ وخت فاصله راځی هغه مراد ده ﴿اِنَّكُمْ عَآئِدُوْنَ﴾ واپس کیدونکی ئے کفرته دَ وجے دَ ضد اوعناد نه په طبیعتونو کښ نومعلومه شوه چه وعده دَ ایمان راوړلوستاسو(انامؤمنون) دروغ ده۔

وَ لَقَدْ فَتَنَّا قَبْلَهُمْ قَوْمَ فِرْعَوْنَ وَ جَآءَهُمْ رَسُوْلٌ كَرِيْمٌ ﴿١٧﴾ اَنْ اَدُّوْۤا اِلَيَّ عِبَادَ اللّٰهِ ؕ اِنِّيْ
لَكُمْ رَسُوْلٌ اَمِيْنٌ ﴿١٨﴾ وَّ اَنْ لَّا تَعْلُوْا عَلَى اللّٰهِ ۚ اِنِّيْۤ اٰتِيْكُمْ بِسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ﴿١٩﴾ وَ اِنِّيْ عُذْتُ
بِرَبِّيْ وَ رَبِّكُمْ اَنْ تَرْجُمُوْنِ ﴿٢٠﴾ وَ اِنْ لَّمْ تُؤْمِنُوْا لِيْ فَاعْتَزِلُوْنِ ﴿٢١﴾ فَدَعَا رَبَّهٗۤ اَنَّ هٰۤؤُلَآءِ قَوْمٌ
مُّجْرِمُوْنَ ﴿٢٢﴾ فَاَسْرِ بِعِبَادِيْ لَيْلًا اِنَّكُمْ مُّتَّبَعُوْنَ ﴿٢٣﴾ وَ اتْرُكِ الْبَحْرَ رَهْوًا ؕ اِنَّهُمْ جُنْدٌ مُّغْرَقُوْنَ ﴿٢٤﴾

الدخان

او یقیناً ازمیښت کړے دے مونږ مخکښ دَ دوی نه په قوم دَ فرعون باندے او راغلے وؤ هغوی ته رسول عزت والا (۱۷) (وئیلی وؤ) چه راکړئے ماته بندګان دَ اللّٰه تعالیٰ یقیناً څه تاسو لره رسول امانت داریم (۱۸)او لوئے مه کوئے په اللّٰه تعالیٰ باندے یقیناً ما راوړے دے تاسو ته دلیل ښکاره (۱۹) او یقیناً پناهی غواړم په رب خپل او په رب ستاسو سره دَ دے نه چه تاسو ما سنګسار کړئے (۲۰) او که خبره نه منے زما نو په ډ ډه شئے زمانه (۲۱) نو دُعا ئے او غوختله دَ رب خپل نه چه یقیناً دا خلق قوم دے مجرمان (۲۲) نو ته بوځه بندګان زما دَ شپے یقیناً تاسو پسے به درتلل کیدیشی (۲۳) او پریږده دریاب او لاړ یقیناً دوی لښکر دی غرق کړے شوے (۲٤)

[۱٦] داهم تخویف دُنیوی دے اومراد دَ دے نه هلاکول دَمشرکانووؤپه ورځ دَ بدرکښ۔ یا دا تخویف اُخروی دے اومراد دَ بطشة نه په ورځ دَقیامت کښ رانیول دَمشرکانودی په سخت عذاب کښ۔

[۱۷] دا دَتخویف دُنیوی مثال دے په واقعه دَ اهلاك فرعون سره۔ اشاره ده لکه چه فرعونیانو دَعذابونو په وخت کښ دَ موسیٰ علیه السلام سره وعدے دَ ایمان کړے وے په دے شرط سره چه زمونږ نه عذاب لرے کړه لکه سورة زخرف کښ ذکر شول لیکن بیائے هغه وعدے ماتے کړے نواللّٰه تعالیٰ په هغوی باندے لوئے عذاب دَ غرق راوستلونو دغسے حال دَ مکے دَ مشرکانو دے ﴿وَلَقَدْ فَتَنَّا﴾ مراد دَ فتنے نه امتحان کول دی په رالیږلودَ رسول اوپه امربالطاعة سره یا مراد دَ فتنے نه عذاب دے ﴿كَرِيْمٌ﴾ دا په مقابله دَقول فرعون کښ دے (مهین) چه په سورة زخرف کښ تیرشویعنی اللّٰه تعالیٰ کرامت اوعزت اوشرافت ورکړے وؤ۔

[۱۸] دَدے دوه توجیه دی اوله توجیه دا ده مراد دَ ادانه اطاعت اوتابعداری کول دی۔ دویمه معنیٰ دَ اَدُّوْا، یعنی ازاد کړئے ماسره بنی اسرائیلولره اوذا دواړه مقصدونه دَ هغه په کلام کښ په سورة اعراف (۱۰٤،۱۰۵) کښ موجود دی۔

[۱۹] مخکښ امربالمعروف ذکرشواودانهی عن المنکرده اوعلوشامل دے تکبرکول دَ طاعت نه او افتراء اوبغاوت کول اوهرکله چه دَبادشاهانوپه اخلاقوکښ لوړ اوتکبروی دَ دے وجے هغوی ته په دعوت ورکولوکښ نهی دَ علونه ذکرکیږی۔

[۲۰] هرکله چه فرعون اراده دَ هغه دَ قتل کړے وه لکه سورة غافر(۲٦) کښ ذکر دی نوموسیٰ علیه السلام دَ هغے نه دَ بچ کیدلو دَپاره تعوذ ذکرکړولکه سورة غافر(۲۷) کښ دی۔

[۲۱] ﴿فَاعْتَزِلُوْنِ﴾ مراد دا دے چه په ډ ډه شئ زمانه یعنی ماته دَ تکلیف راکولو نه یا مراد دا دے جدا شئے زمانه یعنی زما قوم بنی اسرائیل ماته راجداکړئے۔

[۲۲] هغه دُعاء شراوکړه اوتفصیل دَ هغے دُعا په سورة یونس (۸۸) کښ تیرشویدے اوسبب دَ دے دُعا

كَمْ تَرَكُوْا مِنْ جَنّٰتٍ وَّعُيُوْنٍ ﴿٢٥﴾ وَّزُرُوْعٍ وَّمَقَامٍ كَرِيْمٍ ﴿٢٦﴾ وَّنَعْمَةٍ كَانُوْا فِيْهَا فٰكِهِيْنَ ﴿٢٧﴾
كَذٰلِكَ ۫ وَاَوْرَثْنٰهَا قَوْمًا اٰخَرِيْنَ ﴿٢٨﴾ فَمَا بَكَتْ عَلَيْهِمُ السَّمَآءُ وَالْاَرْضُ وَمَا كَانُوْا
مُنْظَرِيْنَ ﴿٢٩﴾ وَلَقَدْ نَجَّيْنَا بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ مِنَ الْعَذَابِ الْمُهِيْنِ ﴿٣٠﴾ مِنْ فِرْعَوْنَ ؕ اِنَّهٗ كَانَ عَالِيًا ع

دير پريخودل دوی دَ باغونو نه او دَ چينونه (٢٥) او فصلونه او ځايونه عزت والا (٢٦) او دَ خوشحالے سامان چه دوی په هغے کښ مزے کوؤنکی وؤ (٢٧) د غه شان اوشو او پاتے کړو مونږ دغه (باغونه وغيره) قوم بل ته (٢٨) نو ژړا او نکړه په دوی باندے اسمان او زمکے او نه وؤ دوی مهلت ورکړے شوی (٢٩) او يقيناً نجات ورکړو مونږ بنی اسرائيلو ته دَ عذاب ذليلوؤنکی نه (٣٠) دَ فرعون نه يقيناً هغه لوئے کوله

دا دے ﴿اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ لَيَقُوْلُوْنَ﴾ جرم ښکاره ګناهونه او فسق وفجور اوظلم ته وئيلے کيږی۔

[٢٣] دا استجابت دَ دُعا دے اودَ نجات دپاره سيرفی الليل بهتره ذريعه ده يودَ دے وجے نه چه فاسقان فاجران په هغه وخت کښ غافل او او دهٔ وی دويم په مزل دَ شپے کښ خير او برکت وی دريم دَ ګرمئے دَ لارے نه بچ کيدل دی۔

[٢٤] په دے کښ اشاره ده ذريعے دَ نجات دَبنی اسرائيلواوطريقه دَ عذاب دَ فرعونيانوته۔ اواختصاردے په عبارت کښ يعنی امرئيے ورته اوکړوچه درياب په عصا سره اووهه نوپه هغے کښ دولس لارے کولاؤ کولاؤجوړے شوے اواوبه په خپل ځايونو باندے اودريدلے۔ هرکله چه بنی اسرائيل پورے لاړل نوموسیٰ عليه السلام اراده اوکړه دا درياب دِ اوس په خپله روان شی دے دَپاره چه فرعونيان په مونږ پسے رانشی نو اللّٰه تعالیٰ حکم اوکړو واترك البحر۔

[٢٥، ٢٦، ٢٧، ٢٨] روستودَغرق کيدلونه دَ هغوی دَ مالونوحال ذکرکوی اوپه دے کښ اشاره ده چه هغوی ټول غرق شول اودارنګ اشاره ده چه غرق دَ دوی په معنیٰ حقيقی سره وؤپه معنیٰ مجازی سره(تاوان) نه دے ﴿وَنَعْمَةٍ﴾دا لفظ شامل دے ټول دَ دُنيا هغه مالونوته چه سبب وی دَخوشحالئے اومستئے اودَتکبر ﴿قَوْماً اٰخَرِيْنَ﴾ مراد هغه کمزوری خلق دی چه دَ لښکردَ فرعون نه په مصرکښ روستوپاتے شوی وؤ۔ يامراد ترينه بنی اسرائيل دی چه بنی اسرائيل په زمانه دَ داؤد عليه السلام کښ دغه ملك ته واپس راغلل او دَ هغے مالونو وارثان شول لکه سورة اعراف (١٣٧) کښ ديته اشاره ده۔

[٢٩] په دے کښ مقصد سپکوالے دَ شان دَ فرعونيانودے۔ژړا دَ آسمان اوزمکے په حقيقت باندے حمل ده لکه روايت دے دَ انس رضی الله عنه نه مرفوعاً، چه مؤمن دپاره په آسمان کښ دوه دروازے دی دَيوے دروازے نه رزق نازليږی۔ اودَ بلے دروازے نه عمل ورخيژی نوکله چه دے مړشی نودا دواړه دروازے دَ اسمان په دهٔ پسے ژاړی اوبيائے دا ايت اولوستلو۔ اودارنګ دَ ابن عباس رضی اللّٰه عنهما روايت دے، چه ځوك په زمکه باندے رکوع اوسجده اونور اعمال دَخيرکوی نوروستودَمرګ دَ دهٔ نه هغه زمکه هم په دے مؤمن پسے ژاړی، نومطلب دَ ايت دا دے چه دَ فرعونيانوهيڅ نيك عمل نه وؤچه اسمان ته ختلے وے اونه په زمکه باندے دَ هغوی نيك عمل وؤنوروستودَ مرګ دَ دوی نه اسمان اوزمکے په دوی پسے ژړا اونکړه۔

مِّنَ الۡمُسۡرِفِيۡنَ ﴿٣١﴾ وَلَقَدِ اخۡتَرۡنٰهُمۡ عَلٰى عِلۡمٍ عَلَى الۡعٰلَمِيۡنَ ﴿٣٢﴾ وَاٰتَيۡنٰهُمۡ مِّنَ الۡاٰيٰتِ مَا فِيۡهِ
بَلٰٓؤٌا مُّبِيۡنٌ ﴿٣٣﴾ اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ لَيَقُوۡلُوۡنَ ﴿٣٤﴾ اِنۡ هِىَ اِلَّا مَوۡتَتُنَا الۡاُوۡلٰى وَمَا نَحۡنُ بِمُنۡشَرِيۡنَ ﴿٣٥﴾
فَاۡتُوۡا بِاٰبَآئِنَآ اِنۡ كُنۡتُمۡ صٰدِقِيۡنَ ﴿٣٦﴾ اَهُمۡ خَيۡرٌ اَمۡ قَوۡمُ تُبَّعٍ ۙ وَّالَّذِيۡنَ مِنۡ قَبۡلِهِمۡ ؕ

دَ حدنه دَ زیاتی کوؤنکو نه وؤ (۳۱) او یقیناً غوره کړی وؤ مونږ دوی سره دَ علم نه په نورو عالمو باندے (۳۲) او ورکړی دی مونږ دوی ته دَ نعمتونو نه هغه چه په هغے کښ ازمیښت ښکاره وؤ (۳۳) یقیناً دا خلق خامخا وائي (۳٤) نه دے دا مګر مرګ زمونږ رومبے دے او نه یو مونږ دوباره پورته کړے شوی (۳۵) نو راولئے تاسو پلاران زمونږ که چرے تاسو رشتینی ئے (۳٦) ایا دوی غوره دی یا قوم دَ تبع او هغه کسان چه دَ دوی نه مخکښ وؤ

[۳۱،۳۰] روستودَعذاب دَفرعونیانونه چه ذکردے په طریقه دَ تخویف دُنیوی مشرکینودپاره اوس انعامات په بنی اسرائیلو ذکرکوی په طریقه دَ بشارت سره دَمؤحدینودَپاره۔

[۳۲] دا ذکرد دویم انعام دے په بنی اسرائیلوباندے دا فضیلت په ټولوخلقو باندے فضیلت جزئیه دے چه دِیرانبیاء ئے په بنی اسرائیلو کښ رالیږلی دی یا مراد ترے دَ هغه زمانے خلق دی ﴿علٰی عِلۡمٍ﴾ یعنی اللّٰه تعالٰی عالم دے چه دوی په دغه وخت حقدار دَ فضیلت وو یا سرهٔ دَ علم دَ اللّٰه تعالٰی نه دَ دوی په نقصانا تو باندے۔

[۳۳]دا ذکردَبل انعام دے اومراد دَ ایات نه هغه معجزات اونااشناانعامات دی چه بعضِ دَهغے نه ذکرشویدی په سورة بقره کښ۔

[۳٦،۳۵،۳٤] دا متعلق دَ (۹) سره دے یعنی څه رنګ چه دوی په شك کښ دی دَ توحید اودَرسالت نه نودارنګ دوی منکردی دَبعث بعد الموت نه اوپه دے کښ زجردے دَ دوی په انکارمن البعث باندے۔ ﴿اِنۡ هِىَ اِلَّا مَوۡتَتُنَا الۡاُوۡلٰى﴾ اقوال دَ انکاردَ دوی دِیروودَ دے وجے نه په لیقولون باندے وقف اوشو لیکن غټ قول ئے دا دے۔ تحقیق دا دے چه ضمیردَ هی حالت اوصفت عاقبت ته راجع دے نومعنیٰ دا ده چه نه دے زمونږحال اوصفت یا عاقبت مګر رومبے مرګ دے اوبیا ورپسے ژوند نیشته اولفظ دَ اولٰی مستلزم نه دے چه دویم موت دے وی۔ یا مراد دا دے چه دوی ته اُوئیلے شول چه تاسو به مړه کیږئے په داسے مرګ سره چه ورپسے ژوندوی لکه چه په تاسوتیرشویدے داسے مرګ چه په هغے پسے ژوندی شوی ئے لکه په سورة بقره (۲۸) کښ نودوی په جواب کښ اُوئیل چه نه دے هغه مرګ چه په هغے پسے ژوند راځی مګر اولنے مرګ دے۔ بنا په دے توجیه ضمیر مرګ ته راجع دے لیکن مقید په دے قید چه ورپسے ژوندوی۔ ﴿فَاۡتُوۡا بِاٰبَآئِنَآ﴾ دا حجت دَ منکرینو دے او دَدے دوه توجیه دی یوداچه زمونږ مړه شوی پلاران راژوندی کړئے لکه سورة جاثیه (۲۵) کښ راځی دویمه توجیه داده چه دَ مشرانونه قول اودلیل پیش کړئے په دوباره ژوند باندے مونږدَ مشرانو قول په دلیل کښ منو۔

اَهْلَكْنٰهُمْ ۚ اِنَّهُمْ كَانُوْا مُجْرِمِيْنَ ﴿۳۷﴾ وَمَا خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا لٰعِبِيْنَ ﴿۳۸﴾ مَا
خَلَقْنٰهُمَآ اِلَّا بِالْحَقِّ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۳۹﴾ اِنَّ يَوْمَ الْفَصْلِ مِيْقَاتُهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿۴۰﴾ يَوْمَ
لَا يُغْنِيْ مَوْلًى عَنْ مَّوْلًى شَيْـًٔا وَّلَا هُمْ يُنْصَرُوْنَ ﴿۴۱﴾ اِلَّا مَنْ رَّحِمَ اللّٰهُ ۭ اِنَّهٗ هُوَ

هلاك كړل مونږ هغوی یقیناً هغوی وؤ مجرمان (۳۷) او نه دی پیدا کړی مونږ اسمانونه او زمکه او هغه چه په مینځ دَ دے کښ دی چه لوبے کوؤنکی یو (۳۸) نه دی پیدا کړی مونږ دا مګر دَ حق بنکاره کولو دپاره لیکن ډیر دَ دوی نه، نه پوهیږی (۳۹) یقیناً ورځ دَ فیصلے مقرر وخت دَ دے ټولو دے (۴۰) داسے ورځ چه نه به شی دفع کولے یو دوست دَ بل دوست نه هیڅ مصیبت او نه به دوی سره مدد کیدیشی (۴۱) مګر هغه څوك چه رحم کړے وی په هغه باندے اللّٰه تعالیٰ یقیناً اللّٰه تعالیٰ

[۳۷] دا رد دے دَ دوی په انکاربانديے په طریقه دَ تخویف سره۔ اومثال دَ تخویف ئے شروع کړے دے دَ قوم تبع نه اشاره ده چه اخری قوم چه هلاك شویدی هغه قوم تُبَّع وویا دَ دے وجے چه دوی مشرکین عرب ته ډیرنزدے وؤ ﴿اَمْ قَوْمُ تُبَّعٍ﴾ خیریت په ډیروالی دَ مال اودَ قوم اودَ نورو نعمتونو او عزتونودنیوو دے۔ دَ تُبع په باره کښ دَمفسرینودوه قولونه دی اول داچه ټول بادشاهان دَ یمن مراد دی هریوته به تُبع وئیلے کیدلو لکه چه اسلامی بادشاه ته خلیفه وئیلے کیږی۔ اودویم قول دادے چه داپه هغوی کښ یوخاص بادشاه وؤچه هغه ته اسعدابو کریب الحمیری وئیلے کیدلودَقتاده نه نقل دی چه دهٔ به دَ اورعبادت کوؤاودارنګ قوم دَ دهٔ هم ۔لیکن دهٔ اسلام راوړلواوخپل قوم ئے اسلام ته راوبلل لیکن هغوی مخالفت اوکړونوهغوی باندے عذاب راغے اودے بچ شواو دَ دهٔ دوه لونړه هم وے چه توحید ئے قبول کړے وؤ هغوی هم بچ شوے۔

[۳۹،۳۸] دا هم رد دے په انکاردَ بعث بعد الموت باندے په طریقه دَاستدلال سره یعنی که چرے داسے وی چه خلق په یوبل ظلمونه کوی اودَ اللّٰه تعالیٰ سره شرك کوی۔ اودَ هغه دَ نعمتونوناشکری کوی اودَ دوی دَ سزا ورکولو دَپاره څه مستقله ورځ نه وی دارنګ څوك مصلحان وی اوخوك مفسدان وی اودَ دوی دَ فرق دَجزا اوسزایو ورځ اوجنت اوجهنم نه وی نومعلومه به شی چه دَ عالم حکته بره اومینځ اللّٰه تعالیٰ بے فائدے پیداکړے دے لیکن اللّٰه تعالیٰ دَعبث اودَ لعب کولونه پاك دے نودویم ایت کښ دَ هغے نتیجه ذکرکړے ده چه دا عالم دَ حق دپاره پیدا شویدے۔

[۴۰] دَ دے ایت نه ترآخردَ سورة پورے دویم باب دے په دے باب کښ تخویف اُخروی تفصیلی مشتمل دے په دیارلس امورو باندے اوبیا بشارت اُخرویه تفصیلیه هغه هم مشتمل دے په دیارلس امورو باندے اختتام دَسورة دے په ترغیب الی القرآن او تخویف دُنیوی باندے۔ په دے(۴۰) کښ دَقیامت نوم یوم الفصل ذکرکړے دے۔ یعنی جدائی به راولی په مینځ دَمؤمن او کافرکښ اشاره ده چه په دنیائی عذاب کښ کله مؤمنان او کافران شریك وی لیکن دَ قیامت په ورځ کښ به بالکل جدا جدا وی۔

[۴۲،۴۱] په اول ایت کښ دَ یوم الفصل هیبت ئے ذکرکړے دے په دوه طریقوسره چه دوست به دَ دوست پکارنه راځی اودَ دوی سره به دَ اللّٰه تعالیٰ دَطرف نه مدد نشی کیدے۔ دویم ایت کښ استثناء ده۔ ﴿اِلَّا مَنْ رَّحِمَ اللّٰهُ﴾ مراد دے نه مؤمنان دی دوی دَیوبل دَپاره شفاعت کولے شی په اذن دَ اللّٰه تعالیٰ اواللّٰه

الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ﴿٤٢﴾ اِنَّ شَجَرَتَ الزَّقُّوْمِ ﴿٤٣﴾ طَعَامُ الْاَثِيْمِ ﴿٤٤﴾ كَالْمُهْلِ ۚ يَغْلِيْ فِي الْبُطُوْنِ ﴿٤٥﴾ كَغَلْيِ الْحَمِيْمِ ﴿٤٦﴾ خُذُوْهُ فَاعْتِلُوْهُ اِلٰى سَوَآءِ الْجَحِيْمِ ﴿٤٧﴾ ثُمَّ صُبُّوْا فَوْقَ رَاْسِهٖ مِنْ عَذَابِ الْحَمِيْمِ ﴿٤٨﴾ ذُقْ ۚ اِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِيْزُ الْكَرِيْمُ ﴿٤٩﴾ اِنَّ هٰذَا مَا كُنْتُمْ بِهٖ تَمْتَرُوْنَ ﴿٥٠﴾ اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ فِيْ مَقَامٍ اَمِيْنٍ ﴿٥١﴾ فِيْ جَنّٰتٍ وَّعُيُوْنٍ ﴿٥٢﴾ يَّلْبَسُوْنَ مِنْ سُنْدُسٍ وَّ اِسْتَبْرَقٍ مُّتَقٰبِلِيْنَ ﴿٥٣﴾ كَذٰلِكَ ۗ وَ زَوَّجْنٰهُمْ بِحُوْرٍ عِيْنٍ ﴿٥٤﴾ يَدْعُوْنَ فِيْهَا بِكُلِّ فَاكِهَةٍ اٰمِنِيْنَ ﴿٥٥﴾ لَا يَذُوْقُوْنَ فِيْهَا

زورآور رحم والا دے (٤٢) یقیناً وَنه دَ زقوم (٤٣) خوراك دَ ګناهګار دے (٤٤) پشان دَ ویلے کړے شوے تانبے خوټکیږی به په خیټو کښ (٤٥) پشان دَ خوټکیدلو دَیشیدلو اوبو (٤٦) اونیسئے دے نو راکاږئے دے مینځ دَ دوزخ ته (٤٧) بیا واړوئ دَ سر د پاسه ئے دَ عذاب دَ یشیدلو اوبو نه (٤٨) اوځکه یقیناً ته زورآور سپین رویے وے (٤٩) یقیناً دا هغه څیز دے چه تاسو په دیکښ شك کوؤ (٥٠) یقیناً متقیان به په ځائے امن والا کښ وی (٥١) په باغونو او چینو کښ به وی (٥٢) اغوندی به دَ نرو ریښمو اوغټو ریښمو نه یو بل ته به مخامخ وی (٥٣) دغه شان به وی او په نکاح سره به ورکړو مونږ دوی ته حورے خائسته سترګو والا (٥٤) راغواړی به دَ دوی په هغے کښ هر قسم میوے په داسے حال چه په امن به وی دَ هر مصیبت ته (٥٥) نه به څکی دوی په هغے کښ

تعالیٰ به پخپله هم بغیرد شفاعت دَشافعینونه دَبعضو سره امداد کوی۔

[٤٣،٤٤،٤٥،٤٦] په دے ایاتونو کښ ذکرد یوقسم عذاب دے په جهنم کښ چه هغه دَ خوراك په صورت کښ دے اودَ دے اونے ذکرپه سورة اسراء(٦٠) اوسورة صافات(٦٢)کښ تیرشویدے ﴿اَلْاَثِيْمِ﴾ مبالغه کوؤنکے په ګناه کښ یعنی غټ ګنهګار اوهغه مشرك او کافردے ﴿كَالْمُهْلِ﴾ هرهغه څیزونه چه په اورکښ ویلی کیږی سره،سپین، اوسپنه،تانبا وغیره یا مراد ترینه خیرے دَ تیلو ایشولو شوؤ دے۔

[٤٧،٤٨] په اول ایت کښ یوه طریقه دَ عذاب ده۔ یعنی دَځائے دَخوراك نه مینځ دَ اورته به ئے په ډیروسختو راخکلو سره بوځی اوپه دویم ایت کښ بله طریقه دَ عذاب ده داسے په سورة حج (١٩)کښ هم تیرشویدی۔

[٤٩،٥٠] ﴿اَلْعَزِيْزُالْكَرِيْمُ﴾ په ګمان دَکافرکښ مراد دے یعنی کافر ګمان کوی چه ځما پشان عزتمند اوشریف په دُنیا کښ بل ځوك نیشته نو هغه ته به استهزاءً په ورځ دَ قیامت کښ دا اُوئیلے شی اشاره ده که چرے ته عزیز اوکریم وے نوتاته به ولے دَ ذُق خطاب دَ ذلت کیدیشی۔

[٥١نه تر٥٧] پورے په دے ایاتونو کښ بشارت اُخرویه دے په تفصیل سره ﴿وَزَوَّجْنٰهُمْ﴾ مراد دَ دے نه عقد دَ نکاح دے دَ اللّٰه تعالیٰ دَطرف نه ﴿اِلَّاالْمَوْتَةَ الْاُوْلٰى﴾ (سوال) دَتیرشوی موت استثناء دَ راتلونکے حالت نه نه صحیح کیږی؟ جواب په ډیروطریقوسره دے اوله طریقه داده چه استثناء منقطع ده یعنی لکن الموتة الاولیٰ قد ذاقوها(اول مرګ خودوی څکلے دے) دویمه طریقه اِلّاپه معنیٰ دَ بعد سره دے یعنی روستودَ مرګ مخکښنی نه۔ دریمه طریقه دیته تعلیق بالمحال وئیلے کیږی دَپاره دَ تاکید یعنی که چرته

الْمَوْتَ اِلَّا الْمَوْتَةَ الْاُوْلٰى ۚ وَوَقٰىهُمْ عَذَابَ الْجَحِيْمِ ﴿۵۶﴾ فَضْلًا مِّنْ رَّبِّكَ ۭ ذٰلِكَ هُوَ
الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿۵۷﴾ فَاِنَّمَا يَسَّرْنٰهُ بِلِسَانِكَ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ﴿۵۸﴾ فَارْتَقِبْ اِنَّهُمْ مُّرْتَقِبُوْنَ ﴿۵۹﴾ ع

مرګ لیکن مرګ مخکښے (خو دوی ځکلے دے) او بچ ساتی به اللّٰه تعالیٰ دوی لره دَ عذاب دَ دوزخ نه (۵۶) دَوجے دَ فضل ستا دَ رب دَ طرف نه دا کامیابی لویه ده نو یقیناً اسان کړیدے مونږ دا قرآن ستا په ژبه باندے دَ دے دپاره چه دوی نصیحت واخلی (۵۸) نو انتظار اوکړه یقیناً دوی انتظار کوؤنکی دی (۵۹)

تیرشوے مرګ دوی په راتلونکی وخت کښ ځکلے شوے نوځکلے به ئے وے نومعلومه شوه چه هیڅ مرګ به نه ځکی۔

[۵۸] دا متعلق دے دَ ابتدا دَ سورۃ سره۔ ترغیب دے قرآن ته او تشجیع ده پیغمبرته په بیانولو دَ قرآن دَپاره دَ دے چه دا خلق په تذکردَ قرآن سره دَعذاب دَ دُنیا اودَ آخرت نه بچ شی ﴿بِلِسَانِكَ﴾ په لغت ستاچه عربی ده او ژبه عربی دَ ټولوژبونه اسانه ده یا مراد دادے چه ستا په ژبه آسانه طریقے سره قرآن چلوؤم په تا باندے لوستل او بیا نول ګران نه دی۔

[۵۹] دا هم متعلق دے دَ سورۃ دَ دعوے سره چه په (۱۰)کښ وه اومطلب ئے دا دے که چرے دے خلقودَ قرآن دَ بیان نه تذکراوعبرت حاصل نه کړونو بیا دَ دوی دَ عذاب انتظار اوکړه۔

سُوْرَةُ الْجَاثِيَة (٤٥) مَكِّيَّةٌ (٦٥) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ٣٧ رُكُوْعَاتُهَا ٤

حٰمٓ ﴿١﴾ تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ ﴿٢﴾ اِنَّ فِي السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ لَاٰيٰتٍ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٣﴾

حا میم (۱)نازلول دَ دے کتاب دَ طرف دَ اللّٰه تعالیٰ نه دی زورآور حکمتونو والا دے (۲) یقیناً په اسمانونو کښ او زمکه کښ پیر دلیلونه دی دپاره دَ ایمان والو (۳)

سورة الجاثيه

اودَ دے بل نوم سورة الشريعة دے۔

ربط: دَ دے دَ محکمښ سورة سره په څووجوهو سره دے اوله وجه دا ده چه تیرشوی سورة کښ تخویف وؤ په عذاب سره نو په دے سورة کښ ذکر دَ طریقے دَنجات دے دَ دغه عذاب نه۔ دویمه وجه دا ده چه په هغه سورة کښ ذکر دَ نعمتونو وؤ په بنی اسرائیلو باندے نو په دے سورة کښ ذکر دَ ناشکرئ دَ هغوی دے۔

دعویٰ دَ دے سورة : امردے په اتباع دَ شریعت سره اونهی ده تابعداریٔ دَ هویٰ نه په (۱۸)کښ۔ او ورسره اثبات دَتوحید دے په ایات عقلیه اووحییه سره اوپه ذکردَپنځه اسماءِ حسنیٰ سره اودعویٰ دَتوحید ذکرده په (۳۷،۳٦)کښ اودارنګ جواب دَ شبهے دَ مشرکینودے هغه دا ده چه دوی وائي غیراللّٰه ته رامددشه وایودَ هغوی بندګی کوؤ ځکه چه زمونږمشرانو داسے کول جواب اوشو چه تابعداری دَشریعت فرض ده اومشرانوخوتابعداری دَ خواهشاتو کړے ده۔

خلاصه دَ سورة دا ده: داسورة تقسیم دے دوه باوونوته اول باب تر(۲۲)پورے دے په دے کښ ترغیب دے قرآن ته اوهغے ته ایات وحییه وئیلے کیږی چه (۲،٦،۱۱،۲۰) دی او ایات عقلیه (۳، ٤، ٥، ۱۲، ۱۳) دی اوزجراوتخویف دے منکرینودَدے ایاتوته اومتبعینودَ خواهشاتوته په (۷، ۸، ۹، ۱۰، ۱۹، ۲۱) کښ اوتمثیل دے په ذکردَ حال دَ بنی اسرائیلوسره اوخطاب دے نبیﷺ ته په (۱٤،۱٥)کښ۔ اودعویٰ دَ سورة ده (۱۸)کښ۔

تفسير

[۱] په دے کښ بحث محکمښ تیرشویدے۔

[۲] دا ترغیب دے قرآن ته یعنی په قرآن کښ ایات وحییه دی دَ تعلیم او دَ اثبات دَ توحید او دَشریعت دپاره۔

[۳] دا دَ دلیلونوعقلیه نه اول دے په دے کښ ایات افاقیه علویه اوسفلیه ذکرکوی ﴿فِي السَّمٰوٰتِ﴾ لفظ دَ خلق ئیے نه دے ذکرکړے دپاره دَ دے چه عموم فائده کړی یعنی په ذوات دَ اسمانونوکښ چه نمر، سپوږمۍ اوستوری وغیره دی اوپه ذات دَ زمکه کښ چه معدنیات نباتات اونوراسباب دَمعاش دی په دے ټولوکښ جدا جداهم دلالت دے په توحید باندے ﴿لِّلْمُؤْمِنِيْنَ﴾ اشاره ده چه ایمان په حقیقت کښ سبب دَ عبرت او دَ استدلال دے ضدی منکرته خوهیڅ فائده نه ورکوی۔

وَفِىۡ خَلۡقِكُمۡ وَمَا يَبُثُّ مِنۡ دَآبَّةٍ اٰيٰتٌ لِّقَوۡمٍ يُّوۡقِنُوۡنَ ۝٤ وَاخۡتِلَافِ الَّيۡلِ وَالنَّهَارِ وَمَآ
اَنۡزَلَ اللّٰهُ مِنَ السَّمَآءِ مِنۡ رِّزۡقٍ فَاَحۡيَا بِهِ الۡاَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَا وَتَصۡرِيۡفِ الرِّيٰحِ اٰيٰتٌ
لِّقَوۡمٍ يَّعۡقِلُوۡنَ ۝٥ تِلۡكَ اٰيٰتُ اللّٰهِ نَتۡلُوۡهَا عَلَيۡكَ بِالۡحَقِّ ۚ فَبِاَىِّ حَدِيۡثٍۢ بَعۡدَ اللّٰهِ وَ
اٰيٰتِهٖ يُؤۡمِنُوۡنَ ۝٦ وَيۡلٌ لِّكُلِّ اَفَّاكٍ اَثِيۡمٍ ۝٧ يَّسۡمَعُ اٰيٰتِ اللّٰهِ تُتۡلٰى عَلَيۡهِ ثُمَّ يُصِرُّ مُسۡتَكۡبِرًا
كَاَنۡ لَّمۡ يَسۡمَعۡهَا ۚ فَبَشِّرۡهُ بِعَذَابٍ اَلِيۡمٍ ۝٨ وَاِذَا عَلِمَ مِنۡ اٰيٰتِنَا شَيۡـًٔا اتَّخَذَهَا هُزُوًا ؕ
اُولٰٓئِكَ لَهُمۡ عَذَابٌ مُّهِيۡنٌ ۝٩ مِّنۡ وَّرَآئِهِمۡ جَهَنَّمُ ۚ وَلَا يُغۡنِىۡ عَنۡهُمۡ مَّا كَسَبُوۡا شَيۡـًٔا وَّلَا

او ستاسو په پیدائش کښ او هغه چه خواره کړیدی زنده سر دلیلونه دی دپاره دَ هغه قوم چه یقین کوی (٤) او په تلوراتلو دَ شپه او دَ ورځ کښ او په هغه کښ چه راورولے دی اللّٰه تعالیٰ دَ اسمان نه څه (سبب) دَ رزق نه نو تازه کړیده په هغه سره زمکه روستو دَ وچوالی دَ هغے نه او په ګرځیدلو دَ هوا ګانو کښ دلیلونه دی دپاره دَ هغه قوم چه عقل نه کار اخلی (٥) دا اياتونه دَ اللّٰه تعالیٰ دی لولو مونږ دا په تا باندے دپاره دَ حق بښکاره کولو نو په کومه خبره به روستو دَ کتاب دَ اللّٰه تعالیٰ او دلیلونو دَ هغه نه دوی ایمان راوړی (٦) تباهی ده هر ډیر دروغژن سخت ګنهګار لره (٧) چه اوری اياتونه دَ اللّٰه تعالیٰ لوستلے کیدیشی په هغه باندے بیا کلك شی په کفر باندے لوټ کوژنکی وی ګویا چه نه وی اوریدلی هغه نو زیرے ورکړه دهٔ لره په عذاب درد ناك سره (٨) او کله چه پوهه شی دَ اياتونو زمونږ نه په یوځیز او نیسی هغے لره ټوقے دغه کسان دوی لره عذاب ذلیلوژنکے دے (٩) مخے دَ دوی ته جهنم دے او نشی اړولے دَ دوی نه هغه عملونه چه دوی کړیدی هیڅ عذاب او نه

[٤] په دے کښ دویم دلیل عقلی دے په ذکر دَ اٰیات انفسیه سره ذکر کوی۔

[٥] په دے کښ دریم دلیل عقلی دے په ذکرد اٰیات متوسطه سره ﴿مِنۡ رِّزۡقٍ﴾ یعنی باران۔ اوهرکله چه په دے سورة کښ په دلیلونوسره دَنعمتونوتذکیرهم مقصد دے اوبښکاره نعمت خورزق دے نودَ دے وجے نه په دے باندے تصریح اوکړه اوهرکله چه دا دلیلونه ډیر واضح دی هرعقل والاپرے پوهیږی دَد ے وجے نه په یعقلون، سره ئے ختم کړو۔

[٦] دا ترغیب دے دغه اياتوعقلیو اوقرآن ته ﴿بَعۡدَ اللّٰهِ﴾ لفظ دَحدیث پټ دے یعنی بعد حدیث اللّٰه تعالیٰ اوهغه قرآن دے لکه چه په سورة مرسلات(٥٠)کښ ذکردی۔ اواٰیاتِهٖ، نه مراد عقلی دلیلونه دی چه کوم مخکښ تیرشول۔

[٧،٨] په دے کښ زجراوتخویف دے منکرینودَ اياتونوته په ذکردَ پنځه صفات قبیحه دَهغه سره۔ ﴿اَفَّاكٍ﴾ هغه څوك چه خبره دَحق نه په اړولوکښ مبالغه اوکوشش کوی په دروغ وئیلو دهوکه کولوتحریف کولوسره ﴿يَسۡمَعُ اٰيٰتِ اللّٰهِ﴾ اٰیات وحییه او عقلیه دواړو ته شامل دے او په دے کښ اشاره ده چه دے ناخبره اوبے علمه نه دے بښهٔ خبر دے بیاهم خلاف کوی۔

[٩] په دے اٰیت کښ زجراوتخویف اوشپږم وصف قبیحه دے۔ ﴿اِذَا عَلِمَ﴾ دَ دے دوه توجیه دی اول داچه

مَا اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَوْلِيَآءَ ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿١٠﴾ هٰذَا هُدًى ۚ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِ
رَبِّهِمْ لَهُمْ عَذَابٌ مِّنْ رِّجْزٍ اَلِيْمٌ ﴿١١﴾ اَللّٰهُ الَّذِيْ سَخَّرَ لَكُمُ الْبَحْرَ لِتَجْرِيَ الْفُلْكُ
فِيْهِ بِاَمْرِهٖ وَلِتَبْتَغُوْا مِنْ فَضْلِهٖ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿١٢﴾ وَسَخَّرَ لَكُمْ مَّا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا
فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا مِّنْهُ ۚ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ﴿١٣﴾ قُلْ لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا يَغْفِرُوْا

هغه معبودان چه دوی نیولی دی سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه مددګاران او دوی لره عذاب دے لوے شان والا (١٠) دا هدایت دے او هغه کسان چه کفرئے کړیدے په ایاتونو دَ رب خپل دوی لره عذاب دے دَ سخت عذاب نه درد ناك (١١) اللّٰه تعالیٰ هغه ذات دے چه ستاسو په خدمت کښ لګولے دے دریاب دپاره دَ دے دے چه روانے وی کشتئے په هغے کښ په حکم دَ هغه سره او دے دپاره چه اولټوئے دَ فضل دَ اللّٰه تعالیٰ نه او دے دپاره چه شکر اوکړئے تاسو (١٢) او خدمت کښ لګولی دی تاسو لره هغه څه چه په اسمانونو کښ دی او هغه څه چه په زمکه کښ دی دا ټول دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه دی یقیناً په دے کښ ډیر دلیلونه دی هغه قوم لره چه فکر کوی (١٣) ته اُوایه هغه کسانو ته چه ایمان ئے راوړے دے بخنه دِ کوی (دَ خپل حق)

کله پوهه شی چه دا دَ قرآن ایت دے نوپه هغے پورے توقے کوی دَ ضد اوعناد اودَ جهل دَ وجے نه۔ دویمه داچه کله چه دَ یو ایت په مقصد باندے پوهه شی مثلاً ایت کښ رد دَ شرك دے نو په هغے پورے توقے کوی۔

[١٠] ﴿وَلَا يُغْنِيْ عَنْهُمْ﴾ هرکله چه مخالفت کوؤنکی دَ حق دوه قسمونه دی یودنیاپرست سرمایه داران، نودَهغوی خیال دادے چه په مالونو ګټلوسره دَ عذاب نه بچاؤحاصلیږی او دویم پیرپرست، قبرپرست، بت پرست دَ هغوی عقیده داوی چه زمونږپیران بزرګان به مونږه بچ کوی نوپه دے جمله کښ دَاول قسم خلقوتردید ئیے اوکړواوپه دویمه جمله کښ (ولا ما اتخذوا من دون اللّٰه اولیآء)کښ دَ دویم قسم تردیدئیے اوکړو۔

فائده: په دے ایاتونوکښ شپږاوصاف قبیحه اوشپږعذابونه ئیے ذکرکړی دی اودَعذاب په صفت کښ اول اَلِیم، ذکرکړوځکه چه دغه سړی په دنیاکښ په اصرار او تکبرکولوسره په وخت دَ اوریدلوکښ دَ قرآن بیانوؤنکی زړه ته ډیردرد رسولے دے اودویم دَ عذاب په صفت کښ مُهِین، ذکرکړو ځکه چه په استهزاء کولو سره دَ قرآن اودَ قرآن والااهانت ئیے کړیدے نودَ دهٔ سزا به اهانت وی اودریم صفت ئیے عظیم، ذکرکړے دے اشاره ده چه دا عذاب په دوی باندے دَ هرجهت نه په هره زمانه کښ په هر اندام دَ دوی باندے احاطه کوؤنکے دے۔

[١١] په دے کښ ترغیب دے قرآن ته اوتخویف دے منکرینوته﴿مِنْ رِّجْزٍ﴾دا په اصل کښ ګنده عذاب ته وئیلے کیږی چه دَ هغے نه نفرت کیدے شی لکه په دنیا کښ طاعون وبا اوپه آخرت کښ ماءٍ صدید او غسلین۔

[١٢،١٣] په ے ایاتونو کښ بیا عقلی دلیلونه دی تیرشوی دلیلونه صرف په طریقه دَ ایات باندے وو اودا دلیلونه په طریقه دَ انعاماتوباندے دی دَ دے وجے نه سخّر، لفظ ئیے په کښ ذکرکړے دے اودَ تسخردَ بحرنه مراد دا دے چه په هغے کښ ئیے داسے صفات پیداکړی دی چه تاسوپکښ کشتئی چلولے شئے لکه نرم والے اوهمواری، درمیانه هواګانے، موجونه په اندازے سره اودَ کشتوجهازونوځان ته نه جذب کول وغیره

لِّلَّذِيْنَ لَا يَرْجُوْنَ اَيَّامَ اللّٰهِ لِيَجْزِيَ قَوْمًا بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿١٤﴾ مَنْ عَمِلَ صَالِحًا
فَلِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ اَسَآءَ فَعَلَيْهَا ۚ ثُمَّ اِلٰى رَبِّكُمْ تُرْجَعُوْنَ ﴿١٥﴾ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ
الْكِتٰبَ وَالْحُكْمَ وَالنُّبُوَّةَ وَرَزَقْنٰهُمْ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ وَفَضَّلْنٰهُمْ عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٦﴾ وَاٰتَيْنٰهُمْ
بَيِّنٰتٍ مِّنَ الْاَمْرِ ۚ فَمَا اخْتَلَفُوْٓا اِلَّا مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَهُمُ الْعِلْمُ ۙ بَغْيًۢا بَيْنَهُمْ ۭ اِنَّ رَبَّكَ
يَقْضِيْ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فِيْمَا كَانُوْا فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ﴿١٧﴾ ثُمَّ جَعَلْنٰكَ عَلٰى شَرِيْعَةٍ مِّنَ الْاَمْرِ

هغه کسانو ته چه عقیده نه لری دَ ورځو دَ الله تعالی دے دپاره چه جزا ورکړی قوم ته په سبب دَ هغه عملونو چه دوی کول (١٤) چا چه عمل اوکړو برابر دَ سنت نو دَ هغه دَ فائِدے د پاره دے او چا چه بد عمل اوکړو نو وبال به په هغه باندے وی بیا ستاسو رب ته به وراوګرځولے شئے (١٥) او یقیناً ورکړیوؤ مونږ بنی اسرائیلوته کتاب او پوهه دَ دین او پیغمبرۍ او ورکړی وؤ مونږ دوی ته دَپاك خوراکونونه او غوره والے ورکړے وؤ مونږ دوی ته په ټولو خلقو باندے (١٦) او ورکړی وؤ مونږ دوی ته ښکاره حکمونه دَ دین نو اختلاف اونه کړو دوی مګر روستو دَ هغے نه چه راغے دوی ته علم دَ وجے دَ ضد کولو نه په مینځ خپل کښ یقیناً ستا رب به فیصله اوکړی په مینځ دَ دوی کښ په ورځ دَ قیامت په هغه څیز کښ چه دوی پکښ اختلاف کوی (١٧) بیا ئے اوګرځولے ته په ښکاره لاره باندے دَ دین

حالات اودا ټول په قدرت دَ الله تعالی سره دی دَ هیڅ مخلوق په هغے کښ هیڅ دخل نیشته۔

[١٤، ١٥] روستودَ دعوت نه په دلیلونوسره تعلیم دَ ادب اودَ حسن اخلاق دے دعوت (تبلیغ) کوؤنکوته۔ ﴿يَغْفِرُوْا لِلَّذِيْنَ لَا يَرْجُوْنَ اَيَّامَ اللّٰهِ﴾ یعنی کوم خلق (منکرین) چه مؤحدینوته تکالیف ورکوی اوبے عزتی اوکنځل کوی هغوی په حقیقت کښ دَعذابونودَ الله تعالی (چه په منکرینوباندے نازل شوی دی) اونعمتونودَ الله تعالی (چه مؤحدینوته ورکړے شوی دی) عقیده نه لری دَ دے وجے نه دوی داسے بد اخلاقی کوی ﴿يَغْفِرُوْا﴾ دَ دے نه مراد دَ هغوی نه بے پرواهی کول اودَکنځلو وغیره دَ جواب نه چپ کیدل اوصبر کول دی۔

[١٦، ١٧] دا تمثیل دے دَ ماقبل دپاره یعنی لکه چه مخاطبینودَ قرآن ته ایات بیّنات ئیے ورکړل او اخری نبی ئیے ورته را اولیږلو لیکن دوی مخالفت اوکړونوالله تعالی به دوی له دَ دوی مناسب جزا ورکوی نودا رنګه ئیے بنی اسرائیلوته ایات او نبوت او نعمتونه ورکړی دی او هغوی هم سره دَ علم نه اختلاف اوکړو ﴿وَالْحُكْمَ﴾ علم اوفهم دَکتاب الله چه هغه په اصل کښ سنت(حدیث) دَ انبیاؤدے ﴿بَيِّنٰتٍ مِّنَ الْاَمْرِ﴾ مراد دَ دے نه احکام دَحلال اوحرام اوشرائع دَ دوی وویاپه دے کښ اشاره ده ښکاره صفتونو او حالاتو دَخاتم الانبیاء ﷺ ته چه دَ دوی په کتاب کښ ذکرشویوو۔

فَاتَّبِعْهَا وَلَا تَتَّبِعْ اَهْوَآءَ الَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿١٨﴾ اِنَّهُمْ لَنْ يُّغْنُوْا عَنْكَ مِنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا ؕ وَاِنَّ
الظّٰلِمِيْنَ بَعْضُهُمْ اَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ۚ وَاللّٰهُ وَلِيُّ الْمُتَّقِيْنَ ﴿١٩﴾ هٰذَا بَصَآئِرُ لِلنَّاسِ وَهُدًى
وَّرَحْمَةٌ لِّقَوْمٍ يُّوْقِنُوْنَ ﴿٢٠﴾ اَمْ حَسِبَ الَّذِيْنَ اجْتَرَحُوا السَّيِّاٰتِ اَنْ نَّجْعَلَهُمْ كَالَّذِيْنَ
اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ۙ سَوَآءً مَّحْيَاهُمْ وَمَمَاتُهُمْ ؕ سَآءَ مَا يَحْكُمُوْنَ ﴿٢١﴾ وَخَلَقَ اللّٰهُ ع ١٤

نو تابعداری کوه دَ هغے او تابعداری مه کوه دَ خواهشاتو دَ هغه کسانو چه نه پوهیږی (۱۸) یقیناً دوی نشی لرے کولے ستانه دَ (عذاب) دَ اللّٰه تعالیٰ نه هیڅ څیز او یقیناً ظالمان بعض دَ دوی ملګری دَ بعضو دی او اللّٰه تعالیٰ ملګرے دَ متقیانو دے (۱۹) دا قرآن دلیلونه دَ رنړا دی زړونو دَ خلقو لره او هدایت او رحمت دے هغه قوم لره چه یقین لری (۲۰) ایا ګمان کوی هغه کسان چه کوی بدکار ئیے دا چه ګرځوو مونږ دوی لره پشان دَ هغه کسانو چه ایمان ئیے راوړے دے او عملونه ئیے کړیدی دَ سنت موافق چه برابروی ژوند دَ دوی او مرګ دَ دوی بده ده هغه فیصله چه دوی کوی (۲۱) او پیدا کړیدی اللّٰه تعالیٰ

[۱۸] په دے ایت کښ دعویٰ دَسورة ده اوهر کله چه محکمیں ذکرشوچه بنی اسرائیلوخپل دین دَ وجے دَ بغی اودَ اختلاف نه بربادکړے دے اودَ عوامومشرانوحال هم ذکرکړے شوچه هغوی افاك اواثیم وغیره دی نومعلومه شوه چه دَ دغه دواړه ډلو تابعداری کول نه دی جائزنودَ دے وجے نه تاله مستقل شریعت درکړے شوے دے(چه هغه قرآن اوسنت دے) نودَ د ے تابعداری کول فرض دی ﴿شَرِيْعَةٍ﴾ شریعت په عام اصطلاح هغه لارے ته وئیلے کیږی چه فراخه، نیغه اسانه اومقصد ته رسوؤنکے وی اوپه اصطلاح دَشرع کښ هغه احکام اوامرنواهی حدود فرائض وغیرها ته وئیلے شی چه اللّٰه تعالیٰ بندګانوته دَ رسول په واسطه رالیږلی وی اولفظ دَ جَعَلْنٰكَ، کښ یوفائده دا ده چه شریعت په وحی سره ثابتیږی ۔ دویمه فائده دا چه دَ نبی ﷺ دَ نبوت ژوند ټول شریعت دے۔

[۱۹] دا علت دَ لاتتبع اهواء اه دے ﴿لَنْ يُّغْنُوْا عَنْكَ﴾ دَ دے دوه مطلبه دی یودا چه که دَ دوی تابعداری کوئے نودَ هغے په وجه سره دَعذاب دَاللّٰه تعالیٰ نه په دنیااوآخرت کښ نشی بچ کیدلے۔ دویم داچه دَ دوی تابعداری دَحق دَ ثابتولوپه باره کښ تاته هیڅ فائده نشی درکولے یعنی دَ دوی اهواء دلیل دَاثبات دَحق نشی کیدلے ﴿بَعْضُهُمْ اَوْلِيَآءُ بَعْضٍ﴾ مراد دَ ولایت نه تابعداری دَکشرانوده مشرانولره اومشابهت دے دَیوبل سره په شرك اوخرافاتو کښ اودَ یوبل سره په باطل کښ مددکول۔

[۲۰] دا ترغیب دے قرآن ته اوعلت دے دَ فاتبعها دپاره یعنی دَ شریعت تابعداری دَ دے وجے نه واجب ده چه په هغے کښ دا درے اوصاف عالیه دی۔ بصائر،هدیٰ، رحمت، اول کښ قرآنی دلیلونوته اشاره ده په دویم کښ دَ قرآن دعاوی اومقاصدوته اشاره ده اوپه دریم کښ دَ دے فائدے اوثمرے ته اشاره ده۔

[۲۱] په دے ایت کښ زجر او رد دے په منکرینودَ شریعت باندے اووائي چه شریعت اوغیرشریعت یوشے دے ﴿اَلَّذِيْنَ اجْتَرَحُوا السَّيِّاٰتِ﴾ یعنی شرك اوکفر بدعات اونورګناهونه کوی اودَ شریعت نه خلاف کوی۔ حاصل دادے چه کافران دا ګمان کوی چه زمونږاودَمؤمنانوپه ژوند اوپه مرګ کښ هیڅ فرق نیشته نوداګمان ئیے غلط دے بلکه ژوند دَمؤمنانوپه طاعت دَ اللّٰه تعالیٰ اودَ رسول اللّٰه ﷺ باندے دے

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ وَلِتُجْزٰى كُلُّ نَفْسٍ بِمَا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿٢٢﴾ اَفَرَءَيْتَ
مَنِ اتَّخَذَ اِلٰهَهٗ هَوٰىهُ وَاَضَلَّهُ اللّٰهُ عَلٰى عِلْمٍ وَّخَتَمَ عَلٰى سَمْعِهٖ وَقَلْبِهٖ وَجَعَلَ
عَلٰى بَصَرِهٖ غِشٰوَةً ؕ فَمَنْ يَّهْدِيْهِ مِنْۢ بَعْدِ اللّٰهِ ؕ اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ﴿٢٣﴾ وَقَالُوْا مَا هِىَ اِلَّا
حَيَاتُنَا الدُّنْيَا نَمُوْتُ وَنَحْيَا وَمَا يُهْلِكُنَآ اِلَّا الدَّهْرُ ۚ وَمَا لَهُمْ بِذٰلِكَ مِنْ عِلْمٍ ۚ اِنْ هُمْ

اسمانونه او زمکه دَ حق دپاره او دے دپاره چه جزا ورکړیشی هر یو تن ته دَ هغه عمل چه کړے وی او په دوی باندے به ظلم نشی کیدے (۲۲) ایا پوهه ئیے ته په حال دَ هغه چاچه خوړ کړے دے معبود خواهش خپل لره او بے لارے کړے دے دهٔ لره اللّٰه تعالیٰ په علم باندے او مهرئیے وهلے دے په غوږدَ دهٔ او زړه دَ دهٔ او اچولی دی په سترګو دَ هغه باندے پردے نو څوك به هدایت ورکړی دهٔ ته روستو دَ بے لارے کولو دَ اللّٰه تعالیٰ نه ایا نو نصیحت نه اخلی دوی (۲۳) او دوی وائي نه دے دا ژوند مګر ژوند زمونږ نزدے مړه کیږو او ژوندی کیږو اونه مړه کوی مونږ لره مګر زمانه او نیشته دوی لره په دے باندے هیڅ دلیل دوی نه دی

اوژوند دَ مشرکانوپه معصیت اوګناهونوکښ دے دَمؤمنانوپه زړونوکښ اطمینان او تسلّی ده اوکافران همیشه پریشان دی اومرګ دَمؤمنانوپه بشارت سره دے ملائك ورله زیږے ورکوی اومرګ دَکافرانوپه ذلت اوپه رسوائیے اوپه سختے سره دے۔

[۲۲] دَ دے ایت نه ترآخره پورے دویم باب دے په دے کښ نور ایاتِ عقلیه ذکرکوی اوزجردے په اتباع دَ هویٰ اوپه انکارد قیامت سره۔ بیا بشارت دے تابعدارانودَ شریعت ته اوتخویف دے تابعدارانودَ هویٰ ته۔ په دے (۲۲) کښ دلیل عقلی دے او دارنګ دا رد دے په مخکښ ګمان دَکافرانوباندے چه مساوات دے دَ حال۔ حاصل دَ رد دادے یعنی ایجاد دَ دے عالم دلالت کوی په عدل اوپه انصاف باندے اوهغه فرق کول دی په جزاء دَ فریقینوکښ۔

[۲۳] دازجردے او رد دے په مخکښ ګمان دَکافرانوباندے چه دَکافرانوحال څه رنګ دَمؤمنانوسره برابرکیدے شی اوحال داچه دوی دَهویٰ نه اله جوړکړے دے اومهر زده ګمراهان دی ﴿اِلٰهَهٗ هَوٰىهُ﴾ په دے کښ دوه توجیه دی اوله دا ده اله ئیے دَ خپل خواهش په تقاضا جوړکړے دے دَ چاخواهش دے چه بت اله دے اودَچا خواهش دے چه قبراله دے اودَ چاپیراله دے اودَ چا شیخ اله دے وغیره اودلیل ورسره نیشته اوحال داچه اِله صرف اللّٰه تعالیٰ دے چه دَ هغه په الوهیت باندے ښکاره ایات اودلیلونه شته دے۔ دویمه توجیه دا ده چه دَ هویٰ (خواهش دَ نفس) داسے تابعداری کوی لکه دَ اله چه تابعداری کیږی یعنی په خپل خواهش باندے حلال اوحرام جوړوی جائزاونا جائزجوړوی او په هغے پسے روان وی۔

اِلَّا يَظُنُّوْنَ ﴿٢٤﴾ وَاِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيٰتُنَا بَيِّنٰتٍ مَّا كَانَ حُجَّتَهُمْ اِلَّآ اَنْ قَالُوا ائْتُوْا بِاٰبَآئِنَآ
اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿٢٥﴾ قُلِ اللّٰهُ يُحْيِيْكُمْ ثُمَّ يُمِيْتُكُمْ ثُمَّ يَجْمَعُكُمْ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ لَا
رَيْبَ فِيْهِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٢٦﴾ ع وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ط وَيَوْمَ تَقُوْمُ
السَّاعَةُ يَوْمَئِذٍ يَّخْسَرُ الْمُبْطِلُوْنَ ﴿٢٧﴾ وَتَرٰى كُلَّ اُمَّةٍ جَاثِيَةً ق كُلُّ اُمَّةٍ تُدْعٰٓى اِلٰى
كِتٰبِهَا ط اَلْيَوْمَ تُجْزَوْنَ مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿٢٨﴾ هٰذَا كِتٰبُنَا يَنْطِقُ عَلَيْكُمْ بِالْحَقِّ ط اِنَّا

مګر ګمانونه کوی (٢٤) او کله چه لوستلے کیږی په دوی باندے ایاتونه زمونږ ښکاره نه وی دلیل دَ دوی مګر دا چه وائي راولے مشران زمونږ که ئے تاسو رشتینی (٢٥) ته اُوایه اللّٰه تعالیٰ تاسو ژوندی کوی بیا به مو مړه کوی بیا به جمع کوی تاسو ورځ دَ قیامت ته چه شك نیشته په هغے کښ لیکن ډیر خلق پوهه نه لری (٢٦) او خاص اللّٰه تعالیٰ لره ده بادشاهی دَ اسمانونو او دَ زمکے او په هغه ورځ چه قائم شی قیامت نو په دغه ورځ به تاوان ښکاره شی دَ باطل پرستو خلقو (٢٧) او ته به وینے هر امت جمع کړے شوے هر امت به راوبللے شی کتاب خپل ته نن ورځ بدله درکیدیے شی تاسوته دَ هغه عملونو چه تاسو کول (٢٨) دا کتاب زمونږ دے خبرے به کوی په تاسو باندے په حق سره یقیناً

[٢٤] دا زجردیے په انکاردَ قیامت سره ﴿وَمَا يُهْلِكُنَآ اِلَّا الدَّهْرُ﴾ دا رد دے په عقیده دَبعض عرب جاهلانو چه دَ هغوی عقیده دا وه چه حوادث، تکالیف اومرګ دَ دے فاعل دهردیے اودَ دے وجے نه دوی به دَ مصیبت په وخت کښ دهرته ناکاره الفاظ وئیل (یاخیبته الدهر) اوحدیث صحیح کښ وارد دی چه، لاتسبوالدهر(نسبت دَ مصیبتونو راوستلودهرته مه کوئے) فان اللّٰه هوالدهر، اوقرطبی وئیلی دی چه صحیح دا ده چه دهردَ اللّٰه تعالیٰ نوم نه دے بلکه په دے حدیث کښ معنیٰ وصفی مراد ده یعنی الفاعل والمتصرف۔ دَ دے نه معلومه شوه چه ځوك دَبعض حوادثونسبت زمانے ته کوی یا دَ ټولوحوادثونودا ټول کافر دی اودوی ته دهریان هم وئیلے کیږی۔

[٢٥] دا زجردیے په انکاردَ ایاتونودَ بعث بعد الموت سره اوطلب دَ دا سے دلیل دے چه هغه په حقیقت کښ دلیل نه دے۔

[٢٦] دا جواب دے دَ هغوی دَ شبهے اواشاره ده چه کوم ذات چه ستاسو په اول حیات باندے قادردے نوپه دوباره ژوند خو ضرورقادردے۔

[٢٧] دا هم دلیل عقلی دے دَ توحید اودَ بعث بعد الموت دَپاره ﴿وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ﴾ دَ دے نه نوے مقصد شروع شوچه هغه تخویف اُخروی دے ﴿يَخْسَرُ﴾ خسران په اصل کښ په دُنیا کښ دے لیکن ښکاره کیدل ئے په آخرت کښ دی او وجه دَ خسران دا ده چه دوی خپل حیات اوعقل اوصحت اوفراغ چه پشان دَ رأس المال وو خرچ کړی دی اوځان ئے ستړے کړے دے په دے ارادے سره چه مونږ ته ګټه حاصله شی لیکن دَ قیامت په ورځ به دوی ته شرمندګی ذلت اوعذابونه حاصل شی او دے ته نهایت خسران اوتاوان وئیلے کیږی۔

[٢٨] دا هم تخویف اُخروی دے ﴿جَاثِيَةً﴾ یعنی په قیامت کښ به ټول خلق راجمع وی او هرچاته به

كُنَّا نَسْتَنْسِخُ مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿٢٩﴾ فَاَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فَيُدْخِلُهُمْ
رَبُّهُمْ فِيْ رَحْمَتِهٖ ؕ ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْمُبِيْنُ ﴿٣٠﴾ وَ اَمَّا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ۫ اَفَلَمْ تَكُنْ اٰيٰتِيْ تُتْلٰى
عَلَيْكُمْ فَاسْتَكْبَرْتُمْ وَكُنْتُمْ قَوْمًا مُّجْرِمِيْنَ ﴿٣١﴾ وَاِذَا قِيْلَ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ وَّالسَّاعَةُ لَا رَيْبَ
فِيْهَا قُلْتُمْ مَّا نَدْرِيْ مَا السَّاعَةُ ۙ اِنْ نَّظُنُّ اِلَّا ظَنًّا وَّمَا نَحْنُ بِمُسْتَيْقِنِيْنَ ﴿٣٢﴾ وَبَدَا لَهُمْ
سَيِّاٰتُ مَا عَمِلُوْا وَحَاقَ بِهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿٣٣﴾ وَقِيْلَ الْيَوْمَ نَنْسٰىكُمْ كَمَا نَسِيْتُمْ

مونږ لیکل په ملائکو باندے هغه عملونه چه تاسو کول (۲۹) نو هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے او عملونه ئے دَ سنت برابر کړی دی نو داخل به کړی دوی رب دَ دوی په خاص رحمت خپل کښی دا کامیابی ښکاره ده (۳۰) او هغه کسان چه کفرئے کړیدے (او به وئیلے شی) ایانه وئے تاسو ایاتونه زما چه لوستلے کیدل په تاسو باندے نو لوئې کوله تاسو او وئے تاسو قوم جرم کوؤنکی (۳۱) او کله به چه اوئیلے شول یقیناً وعده دَ اللّٰه تعالیٰ حقه ده او قیامت چه هیڅ شك نیشته په هغے کښی تاسو به وئیل مونږ نه پوهیږو قیامت څه دے گمان نه کوؤ مونږ مگر معمولی گمان اونه یو مونږ یقین کوؤنکی (۳۲) او ښکاره به شی دوی ته ناکاره (عقوبتونه) دَ عملونو دَ دوی او راگیر به کړی دوی لره هغه ځیز چه دوی په هغے پورے ټوقے کولے (۳۳) او اوبه وئیلے شی چه نن پریږ دو مونږ تاسو لره لکه چه پریخودلے وؤ تاسو

دَ هغوی عملنامه ورکیدلے شی او بیا روستو، فاما الذین امنوا اه تفصیل دے۔

[۲۹] دا قول دَ ملائکویا دَ اللّٰه تعالیٰ دے اویَنْطِقُ، یعنی هغه کتاب به په خپله شهادت ورکړی په دلیل دَخم سجده (۲۱) سره یا داچه دوی ئے اوگوری اودَ دوی عملونه پکښی لیکلے شوی وی نو داسے شوه گویاکه هغه کتاب ناطق شو لکه سورة مؤمنون (٦٧) اوسورة کهف(٤٩)کښی نَسْتَنْسِخُ، په صیغه دَ استفعال سره ذکرشو یعنی اللّٰه تعالیٰ امرکوؤملائکوته دَ لیکلودَ هغه عملنامے لکه سورة ق(١٨) اوسورة انفطار(١١)۔

[۳۰،۳۱] په اول ایت کښی بشارت دے او مراد دَ رحمت نه جنت دے هرکله چه دَ مبطلینو خسران ئے ذکر کړے وؤ نو دَ هغے مقابله کښی ئے دَ مؤمنانو فوز مبین ذکرکړو او په دویم ایت کښی تخویف دے او ذکر دَ اسبابو دَ عذاب دے۔

[۳۲] دا دریم سبب دَ عذاب دے یعنی انکار کول دَ بعث بعد الموت نه ﴿قُلْتُمْ مَّا نَدْرِيْ﴾ دا اقراردے په لوے جهل خپل سره ځکه چه نفی دَ درایت په هغه ځائے کښی استعمالیږی چه دَعلم حاصلولوډباره هیڅ ذریعه نه وی ﴿اِنْ نَّظُنُّ اِلَّا ظَنًّا﴾ یعنی اِلَّا ظَنًّا حَقِيْرًا او قَلِيْلًا (مگر گمان سپك اولږ)۔ دوبمه توجیه دا ده (نه یومونږمگرگمان کووگمان)۔

فائده: منکرین دَ قیامت دوه ډلے وے یوډله هغه وه چه هغوی دَقیامت نه صریح انکارکوؤدَ هغوی ذکرپه (٢٤)کښی تیرشواودویمه ډله هغه وؤچه هر کله دلیلونه ئے واوریدل دَبعث بعد الموت نو په شك کښی پریوتل په دے ایت کښی دا خلق مراد دی۔

[۳۳] دا هم تخویف کښی داخل دے ﴿يَسْتَهْزِءُوْنَ﴾ معلومه شوه چه دوی وئیل اِن نظن اِلَّا ظناً، دا دَ شك

لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هٰذَا وَ مَاْوٰىكُمُ النَّارُ وَمَا لَكُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ﴿٣٤﴾ ذٰلِكُمْ بِاَنَّكُمُ اتَّخَذْتُمْ اٰيٰتِ
اللّٰهِ هُزُوًا وَّغَرَّتْكُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا ۚ فَالْيَوْمَ لَا يُخْرَجُوْنَ مِنْهَا وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُوْنَ ﴿٣٥﴾ فَلِلّٰهِ
الْحَمْدُ رَبِّ السَّمٰوٰتِ وَ رَبِّ الْاَرْضِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٣٦﴾ وَلَهُ الْكِبْرِيَآءُ فِي السَّمٰوٰتِ وَ
الْاَرْضِ ۖ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿٣٧﴾ ع ٤

ملاقات دَ ورځے ستاسو چه دا ده او ځائے دَ اوسیدولو ستاسو اور دے او نیشته تاسو لره هیڅ مددګار (٣٤) دا دَ دے وجے نه چه نیولی وو تاسو ایاتونه دَ اللّٰه تعالیٰ ټوقے او دهوکه کړی وئے تاسو ژوند دُنیوی نو نن به نشی ویستلے کیدلے دوی دَ اُورنه او نه به دَ دوی توبه قبوله کړے شی (٣٥) نو خاص اللّٰه تعالیٰ لره ستائِنه دَ خدائیتوب ده رب دَ اسمانونو او رب دَ زمکے دے رب دَ ټولو عالمینو دے (٣٦) او خاص هغه لره لوئي ده په اسمانونو او زمکه کښ او خاص هغه زوراور حکمتونو والا دے (٣٧)

په طوربانډے نه وؤبلکه دَ استهزاء په طریقه بانډے وؤدَے وجے نه دوی دَعامومنکرینونه ډیرناکاره دی۔

[٣٤] دا هم داخل دے په تخویف کښ۔

[٣٥] داسببونه ذکرکوی دپاره دَماقبل یوسبب استهزاء په ایاتونووحییه اوعقلیه پورے کوم چه په دے سورة کښ ذکرشول اودویم غفلت په سبب دَحِرص اومحبت دَ دُنیا چه دَهغے دَ وجے نه قیامت ئے هیرکړو ﴿وَلَاهُمْ يُسْتَعْتَبُوْنَ﴾ دَعتاب نه ماخوذ دے مراد ترینه ازاله دَ عتاب ده دَ اللّٰه تعالیٰ سره په عذر قبلولو سره یا دَ عتبیٰ نه ماخوذ دے رجوع کول یعنی طلب دَ توبے به ترینه نشی کیدے۔

[٣٧،٣٦] دا هم دلیلونه عقلیه دی سرهٔ دَ دعوے دَتوحید نه۔ اودارنګ دا تفریع ده په مضمون دَ ټول سورة بانډے یعنی اللّٰه تعالیٰ په ایات وحییه اوعقلیه سره شریعت واضح کړے دے نودَ اللّٰه تعالیٰ حمد واجب دے په مخلوق بانډے ﴿وَلَهُ الْكِبْرِيَآءُ﴾ په دے سره وهم دَ شرکت دفع کوی چه دَ اللّٰه تعالیٰ په حمد کښ ځوك شریك نشی کیدے ځکه چه کبریاء په اللّٰه تعالیٰ پورے خاص ده یعنی عظمت، جلال، بقا سلطان، قدرت ټول په اللّٰه تعالیٰ پورے خاص دی نوبل ځوك دَ هغه سره په حمد اوصفاتو کښ شریك نشی کیدلے۔

سُوْرَةُ الاَحْقَاف (٤٦) مَكِّيَّةٌ (١٣٦) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ٣٥ رُكُوْعَاتُهَا ٤

حٰمٓ ﴿١﴾ تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ ﴿٢﴾ مَا خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَآ اِلَّا بِالْحَقِّ وَاَجَلٍ مُّسَمًّى ؕ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا عَمَّآ اُنْذِرُوْا مُعْرِضُوْنَ ﴿٣﴾ قُلْ اَرَءَيْتُمْ مَّا تَدْعُوْنَ

حا میم (١) نازلول دَ دے کتاب دَ طرف دَ اللّٰه تعالیٰ نه دی چه زوراور حکمتونو والا دے (٢) نه دی پیدا کړی مونږ اسمانونه او زمکه او هغه چه دَ دے په مینځ کښ دی مګر په فائدے او نیټے مقررے سره او کافران خلق دَ هغه څه نه چه دوی له پرے ویره ورکیدیشی مخ ګرځوؤ نکی دی (٣) ته اُوایه خبر کړئے ما لره په باره دَ هغه چا کښ چه تاسو ورته رامددشه وائیے

سورة الاحقاف

ربط: دَ دے سورة دَ ماقبل سره په ډیرو وجوهوسره دے وجه اول دا ده چه په هغه سورة کښ امرپه اتباع دَشریعت سره وؤ نوپه دے سورة کښ تصدیق دَشریعت په اثبات دَصدق دَنبی اودَصدق دَ قرآن سره ذکرکوی۔ دویمه وجه داده مخکښ سورة کښ ایات عقلیه اووحییه ذکرشول په توحید باندے نوپه دے سورة کښ په هغے باندے تفریع ده په رد دَ شرك فی القدرة والعلم سره۔

دعویٰ دَسورة: رد دے په شبهه دَ مشرکانوباندے چه معبودان من دون اللّٰه وسیلے ګنړی اوسبب دَنجات ورکولوئیے ګنړی نوپه (٢٨) کښ دَ هغے جواب کوی په اثبات دَصدق دَنبی اودَ قرآن نه په تردید دَ اقساموددَ شرك کښ۔ شرك فی التصرف اوفی العلم اوفی الدعاء اوفی العبادة اواثبات دَصدق دَنبی اودَ قران دے په تصدیق کولودَ جناتوسره۔

خلاصه دَ سورة داده: په دے کښ دوه بابونه دی اول باب تر(١٥) پورے دے۔ په دے کښ اول ترغیب الی القرآن دے بیا زجرونه دی اول زجرپه اعراض کولوسره دَ ایاتِ وحییه(قرآن) اوعقلیه نه اودویم زجرپه رد دشرك فی التصرف په طلب دَ دلیل سره دَمشرانونه دریم زجرپه رد دَشرك فی العلم اوفی الدعاء سره څلورم زجرپه انکاردَ قرآن سره بیا صدق دَ قرآن اودَ رسول ذکرکوی سرهٔ دَ دلیل نقلی دَ کتاب دَ موسیٰ علیه السلام نه بیا بشارت دے۔

تفسیر

[١] په دے ایت کښ ترغیب الی القرآن دے اواشاره ده دَ سورة راتلونکی مضمون ته چه وحی دَ اللّٰه تعالیٰ ده۔ څه بے دلیله خبره نه ده۔

[٢] په دے کښ اشاره ده چه راتلونکے مضمون دَعقلی دلیلونوسره هم برابردے یعنی دا نظام علوی اوسفلی اووسطی دَلالت کوی په توحید اوپه بعث بعد الموت باندے۔

[٣] په دے کښ طلب دَ دلیل دے دَمعرضینونه دَ هغوی په شرك باندے او زجر دے په شرك فی التصرف باندے حاصل دا دے چه په زمکه کښ خلق یا په آسمان کښ شرکت په تصرف کښ دلیل دے په الوهیت باندے نوکه ستاسوآلِهوکښ دَ دے نه یو قدرت وی نواوښائ۔ اودا دلیل عقلی دے اوکه داسے نه وی

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَرُوْنِيْ مَاذَا خَلَقُوْا مِنَ الْاَرْضِ اَمْ لَهُمْ شِرْكٌ فِي السَّمٰوٰتِ ۭ اِيْتُوْنِيْ بِكِتٰبٍ مِّنْ قَبْلِ هٰذَآ اَوْ اَثٰرَةٍ مِّنْ عِلْمٍ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ۝ وَمَنْ اَضَلُّ مِمَّنْ يَّدْعُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَنْ لَّا يَسْتَجِيْبُ لَهٗٓ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ وَهُمْ عَنْ دُعَاۗىِٕهِمْ غٰفِلُوْنَ ۝ وَاِذَا حُشِرَ النَّاسُ كَانُوْا لَهُمْ

سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه اوخائیے ما ته هغه څه دی چه دوی پیدا کړیدی دَ زمکے دَ څیزونونه ایا دوی لره شته دے برخه په اسمانونو کښ راوړئے ماته کتاب (چه نازل شویوی) مخکښ دَ دے کتاب نه یا را نقل کړے شوے دلیل (دَ مخکښ) که چرے تاسو رشتینی ئیے (٤) او څوك دے زیات ګمراه دَ هغه چانه چه را مدد شه وائي سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه هغه چا ته چه نشی پوره کولے (حاجت) دهٔ لره تر ورځ دَ قیامت پورے او دوی دَ هغوی دَ بلنے نه نا خبره دی (٥) او کوم وخت چه راجمع کړیشی خلق نو شی به دوی هغوی لره

نودلیل نقلی دَکتاب دَ اللّٰه تعالیٰ یا دَمخکښنوپیغمبرانودَ آثارو، احادیثونه پیش کړئے په الوهیت دَ معبودانو ستاسو باندے۔

[٤] ﴿اَوْ اَثٰرَةٍ مِّنْ عِلْمٍ﴾ نقل دے دَعکرمه اومجاهد نه چه مراد دَ دے نه روایت نقل کړے شویدے دَ انبیاء علیهم السلام نه چه هغے ته په اصطلاح دَ شرع کښ احادیث وئیلے کیدے شی پدیکښ اشاره ده چه دلیل شرعي صرف کتاب اللّٰه وی یا احادیث دَ پیغمبردَ دے نه بغیرپه بل څیز سره صدق نه ثابتیږی دَ دے وجے نه اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ، ئیے ذکرکړو۔

[٥] دا بل هم زجردے په شرك فی الدعاء والعلم باندے روستودَ رد دَ شرك فی التصرف نه۔ دَ اَضَلُّ، نه مرادکافردے ځکه چه کفر اخری درجه دَ ګمراهئ ده ﴿مِمَّنْ يَّدْعُوْا﴾ دَ دُعا نه مرادحاجت غوښتل اورا مدد شه وئیل دی په دے عقیده باندے چه داحاجت روا اواختیارمند دَ نفع اوضرردے اودا دُعا اصل عبادت دے دَ دے وجے نه بعض مفسرینودَ یدعوا په تفسیرکښ یعبد لیکلے دے ﴿مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَنْ لَّا يَسْتَجِيْبُ﴾ لفظ من دون اللّٰه خوټول ماسوی اللّٰه ته عام دے که ژوندی وی اوکه مړه وی بتان وی اوکه روح والاوی اولیاء وی اوکه انبیاء وی اولفظ دَ مَنْ خاص دے په عقل والوپورے که مړه وی اوکه ژوندی نودا بدل دَخاص دے دَعام نه اوپه دے کښ اشاره ده که څوك دَبتانوبندګی کوی نوهم دَهغوی مقصد بتان نه وی بلکه هغه شخص وی چه دا بت دَ هغه جوړکړے شوے دے۔ تفسیرابن کثیر، قرطبی، سراج المنیر، خازن وغیره ټولوتصریح کړے ده چه دا ایت شامل اوعام دے عابدانو دَ ملائکو اودَ عیسیٰ علیه السلام اودَ پیریانو وغیره ته ﴿لَا يَسْتَجِيْبُ لَهٗٓ﴾ یعنی دَ دوی هیڅ حاجت نه شی پوره کولے نه ورله څه فائده ور رسولے شی اونه ضرر او دا شامل دے دے خبرے ته چه مړے دَد ے ژوند ودَپاره دُعاهم نشی غوختلے که دوی ورنه دُعا طلب کوی ځکه چه دُعا غوښتل هم استجابت دے ﴿اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ﴾ په دے کښ ډیرتاکید دے یعنی مشرك دِ دا خیال نه کوی چه زما دُعا ئیے اوس قبوله نه کړه نوځه وخت روستوبه قبوله کړی بلکه ترقیامته پورے نشی قبلیدلے ﴿وَهُمْ عَنْ دُعَاۗىِٕهِمْ غٰفِلُوْنَ﴾ دَغفلت نه مرادنه اوریدل دی لکه سورة یونس (٢٩) اوسورة فاطر(١٠٤) کښ تیر شویدی لفظ دَ هم اوغافلون اوصفت دَ غفلت هم دلالت کوی چه دا خاص نه دے په بتانوپورے۔ اودا معبودان دَ دُعا نه ځکه غافل دی چه څوك لرے وی اوخوك نزدے وی لیکن مړه دی اومړے

اَعۡدَآءً وَّكَانُوۡا بِعِبَادَتِهِمۡ كٰفِرِيۡنَ ۝٦ وَاِذَا تُتۡلٰى عَلَيۡهِمۡ اٰيٰتُنَا بَيِّنٰتٍ قَالَ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا لِلۡحَقِّ
لَمَّا جَآءَهُمۡ ۙ هٰذَا سِحۡرٌ مُّبِيۡنٌ ۝٧ اَمۡ يَقُوۡلُوۡنَ افۡتَرٰىهُ ؕ قُلۡ اِنِ افۡتَرَيۡتُهٗ فَلَا تَمۡلِكُوۡنَ لِىۡ مِنَ
اللّٰهِ شَيۡـًٔا ؕ هُوَ اَعۡلَمُ بِمَا تُفِيۡضُوۡنَ فِيۡهِ ؕ كَفٰى بِهٖ شَهِيۡدًا ۢ بَيۡنِىۡ وَبَيۡنَكُمۡ ؕ وَهُوَ الۡغَفُوۡرُ الرَّحِيۡمُ ۝٨
قُلۡ مَا كُنۡتُ بِدۡعًا مِّنَ الرُّسُلِ وَمَاۤ اَدۡرِىۡ مَا يُفۡعَلُ بِىۡ وَلَا بِكُمۡ ؕ اِنۡ اَتَّبِعُ اِلَّا مَا يُوۡحٰۤى اِلَىَّ

دُشمنان او دوی به شی دَ بندګئ دَ هغوی نه انکار کوؤنکی (٦) او کوم وخت چه اولوستلے شی په دوی باندے ایاتونه زمونږ ښکاره نو وائي کافران په باره دَ حق کښ هر کله چه دوی ته راغے چه دا جادو دے ښکاره (٧) ایا دوی وائي چه دائے دَ ځان نه جوړ کړیدے ته اُوایه که چرے ما دَځان نه جوړ کړے وی نو وس نه لرئے تاسو ما لره دَ بچ کولو دَ عذاب دَ اللّٰه تعالیٰ نه هیڅ قسم هغه شے پوهه دے په هغه خبرو باندے چه ننوځئ تاسو په هغے کښ پوره دے اللّٰه تعالیٰ ګواه په مینځ زما او په مینځ ستاسو کښ او خاص اللّٰه تعالیٰ بخنه کوؤنکے رحم کوؤنکے دے (٨) ته اُوایه ځه نه یم نوے رالیږلے شوے دَ قسم دَ رسولانو نه او نه پوهیږم په هغه کار چه کیږی به زما سره او تاسو سره (په دُنیا کښ) ځه تابعداری نه کوؤم مګر دَ هغه چه وحی کیدیشی ماته

خونه آوری اویا داچه دَ مشرك آواز او دُعا وغیره ورته اللّٰه تعالیٰ نه اوروی دغسے تفصیل په سورۃ فاطر کښ تیرشویدے۔

[٦] لفظ دَحشراوعداوت اوکفر(انکار) هم دلیل دے چه دا ایت په باره دَبتانوکښ نه دے ﴿وَكَانُوۡا بِعِبَادَتِهِمۡ﴾ یعنی دُشمن چه دُشمن سره خبرے نه کوی او برائت ترینه کوی دَ غسے به دا معبودان دَ دے عابدانو سره خبرے نه کوی او دَ هغوی دَ عبادتونونه به انکارکوی لکه سورۃ یونس(٢٨)کښ او دا انکار دَ وجے دَ ناخبرئے نه دے۔

[٧] دا هم بل زجردے په انکاردَ قرآن سره ﴿لِلۡحَقِّ﴾ دَ دے نه مراد دغه ایات بینات دی یا مراد دَ دے نه مضمون دَ هغے دے یعنی اثبات دَ توحید او رد شرك ﴿سِحۡرٌ﴾ لکه جادوچه بے حقیقته خیالی څیزوی نو دوی(کافران) هم قرآن دامسے ګڼری۔

[٨] دا بل زجردے په انکاردَ قرآن سره دَ مخکښې نه ترقی ده ځکه چه دَسحرپه معنیٰ کښ بل چاته نسبت کول ماخوذنه دی اودَافتراء، مراد دا دے چه دَ ځان نه ئے دروغ جوړ کړی دی نوبیائے اللّٰه تعالیٰ ته نسبت کړیدے﴿قُلۡ﴾ په دے سره جواب ذکرکوی حاصل دَجواب دادے ګه بالفرض ماپه اللّٰه تعالیٰ باندے دروغ جوړکړی وی نوهغه به ضرورماله سزا راکړے وے لکه چه سورۃ الحاقه (٤٤،٤٥)کښ شته او تاسو خوما نشئے خلاصولے لکه الحاقه (٤٧)کښ لیکن اللّٰه تعالیٰ ماله عذاب نه دے راکړے بلکه ما دَپاره ئے شهادت کړیدے﴿وَهُوَالۡغَفُوۡرُالرَّحِيۡمُ﴾ زجاج وئیلی دی چه دا دعوت اوترغیب دے توبے او استغفار ته مشرکینو او منکرینو ټولوته۔

وَمَآ اَنَا اِلَّا نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ۝٩ قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ كَانَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ وَكَفَرْتُمْ بِهٖ وَشَهِدَ شَاهِدٌ مِّنْ
بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ عَلٰى مِثْلِهٖ فَاٰمَنَ وَاسْتَكْبَرْتُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِى الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ۝١٠ ع وَقَالَ
الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَوْ كَانَ خَيْرًا مَّا سَبَقُوْنَآ اِلَيْهِ ؕ وَاِذْ لَمْ يَهْتَدُوْا بِهٖ فَسَيَقُوْلُوْنَ

او نه یم څه مګر ویره ورکوونکے ښکاره (۹) ته اُوایه خبر راکړئے که چرے وی (دا قرآن) دَ طرف دَ اللّٰه تعالیٰ نه اوانکار کوئے تاسو دَ دهٔ نه اوګواهی کړیده ګواهی کوونکی دَ بنی اسرائیلو نه دَ دے په مثل (کتاب) باندے نو هغه ایمان هم راوړے دے او تاسو لوئي کوئے یقیناً اللّٰه تعالیٰ (توفیق) دَ هدایت نه ورکوی قوم ظلم کوونکو ته (۱۰) او وائي کافران مؤمنانو (ته ئیے اوروی) که چرے دا حق وے نو مخکښ شوی به نه وؤ دوی زمونږ نه دے ته او هر کله چه پوهه نه لری پدے کتاب نو ضرور وائي دوی

[۹] په دے ایت کښ جواب دَ د وؤشبهاتودے چه مخکښ سره تعلق لری اوله شبهه دوی اُوئیل چه ته مفتری دَ دے وجے نه ئیے چه تاداسے دعویٰ کړے ده (یعنی دَتوحید اورسالت) چه مخکښ بل چانه ده کړے دویمه شبهه دا ده که ته مفتری نه ئیے نو مونږته زمونږدَغیبودَ حالاتوخبرراکړه نوپه دے ایت کښ علی الترتیب دَ دواړوشبهاتوجوابونه دی دَ اولے شبهے جواب ﴿قُلْ مَا كُنْتُ بِدْعًا مِّنَ الرُّسُلِ﴾ یعنی ما څه نوے مسئله دَځان نه داسے نده جوړه کړے چه دَ نورو رسولانونه څه په هغے جدا شوے یم بلکه ما هغه مسئله دَ توحید اودعویٰ دَ رسالت پیش کړیده چه مخکنی رسولانوهم داسے پیش کړیوه ﴿بِدْعًا﴾ بدع او مبتدع په لغت دَعرب کښ هرهغه نوی کارته وئیلے کیږی چه دَهغے مخکښ مثال نه وی اودَشریعت په اصطلاح کښ بدعت هرهغه څیزدے چه دلیل شرعی سره ثابت نه وی اوشریعت ګرځولے شویوی که قول وی اوکه عقیده اوکه مکان وی۔ اودَدے تقسیم حسنه اوسیئه یا واجب مستحب وغیره ته نشی کیدے ځکه چه رسول اللّٰهﷺ فرمائیلی دی کل بدعة ضلالة اوکم تقسیم چه بعض اهل علموذکرکړے دے روستودَمنلوذ هغے نه وئیلے کیدیشی چه هغه تقسیمات په بدعة لغویه کښ دی۔ او دَدویمے شبهے جواب ﴿وَمَآ اَدْرِىْ مَا يُفْعَلُ بِىْ وَلَا بِكُمْ﴾ مراد دَ دے نه احوال دُنیویه دی دَحسن بصری نه مفسرینونقل کړیدے چه دا په دُنیا کښ دی اوهرچه په آخرت کښ وی نومعاذ اللّٰه ځکه چه نبیﷺ ته علم وؤچه دے بخلے شوے اوجنتی دے نودَ دنیا دَحالاتوپه باره کښ نبی عالم الغیب نه دے دا علم ورته نه وؤچه دَمګے معظمے نه به ویستلے کیږی اوکه قتل کیږی اوکه نه اودَ امت په باره کښ عالم نه وؤچه دوی به زما تصدیق کوی اوکه تکذیب اوپه دوی به عذاب راځی اوکه نه اوځه رنګ عذاب به ورباندے راځی۔سوال:حدیث دَام العلاء الانصاریه کښ خووارد دی (په باره دَ عاقبت کښ) واللّٰه وانارسول اللّٰه ومااَدری مایفعل بی ولابکم۔ جواب دا دے چه په دے روایت کښ صحیح الفاظ دادی ما ادری ما یفعل بهٖ لکه چه امام بخاری راوړے دے دارنګ قرطبی اوابن کثیرهم وئیلی دی۔

[۱۰]دا هم زجر دے په انکار دَ قرآن نه سرهٔ دَ اثبات دَ صدق دَ قرآن په شهادة سره۔

هٰذَآ اِفْكٌ قَدِيْمٌ ﴿١١﴾ وَمِنْ قَبْلِهٖ كِتٰبُ مُوْسٰٓى اِمَامًا وَّ رَحْمَةً ؕ وَ هٰذَا كِتٰبٌ مُّصَدِّقٌ لِّسَانًا عَرَبِيًّا
لِّيُنْذِرَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ۖ وَبُشْرٰى لِلْمُحْسِنِيْنَ ﴿١٢﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ قَالُوْا رَبُّنَا اللّٰهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوْا فَلَا خَوْفٌ
عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿١٣﴾ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۚ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿١٤﴾ وَ
وَصَّيْنَا الْاِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ اِحْسٰنًا ؕ حَمَلَتْهُ اُمُّهٗ كُرْهًا وَّ وَضَعَتْهُ كُرْهًا ؕ وَحَمْلُهٗ وَفِصٰلُهٗ ثَلٰثُوْنَ

چه دا دروغ (جوړ کړے شوی) زاړه دی (١١) او مخکښ دَ دینه کتاب دَ موسیٰ(علیه السلام) (نازل کړے شویدے) پیشوا او رحمت او دا کتاب دے تصدیق کوؤنکے دے ژبه عربی ده دپاره دَ دے چه ویره ورکړی ظالمانو لره او زیرے دپاره دَ ښائسته عمل کوؤنکو (١٢) یقیناً هغه کسان چه وائي دوی رب زمونږ الله تعالیٰ دے بیا پاځه دی (په ایمان باندے) نو نیشته هیڅ ویره په دوی باندے او نه به دوی غمژن کیږی (١٣)دغه کسان جنت والا دی همیشه به وی په هغے کښ بدله ورکیدیشی دَ هغه چه دوی عملونه کول (١٤) او پوخ حکم ورکړیدے مونږ انسان ته دَ مور او پلار سره دَ ښیګړے کولو پورته کړیدے دهٔ لره مور دَ دهٔ په تکلیف سره او زیګولے دے دهٔ لره په تکلیف سره او پورته کول دَ دهٔ او دَ سینے نه پریکول دَ دهٔ دیرش

[١١] دا بل زجردے په منکرینودَ قرآن باندے۔ اوطریقه دَ انکاردا ده چه کوم صحابه کرامو ایمان راوړے وو نو اکثر فقراء مسکینان وؤ نو متکبرینو به وئیل چه دوی خوکم عقل دی دَ دوی ایمان دلیل دَ حقانیت او خیریت نه دے بلکه داکه خیر وی نو مونږ به دَ دوی نه وړاندے منلے وے ځکه چه مونږ هوښیاریو۔ اوس هم دُشمنان دَصحابه کرامو داسے وائي او ابن کثیروئیلی دی چه څوك اهل سنت والجماعة وی۔(دَ هغوی په زړونو کښ عزت اواحترام دَصحابه کرامودے) نو هغوی وائی كُلُّ فِعْلٍ وَقَوْلٍ لَمْ يَثْبُتْ عَنِ الصَّحَابَةِ فَهُوَ بِدْعَةٌ لِاَنَّهٗ لَوْ كَانَ خَيْرًا لَسَبَقُوْنَا اِلَيْهِ لِاَنَّهُمْ لَمْ يَتْرُكُوْا خَصْلَةً مِّنْ خِصَالِ الْخَيْرِ اِلَّا وَقَدْ بَادَرُوْا اِلَيْهَا(هر کاراوویناچه دَصحابه کرامونه ثابته نه وی نوهغه بدعت دے ځکه که دغه ځیزښه کاروے نوصحابوبه زمونږنه مخکښ کړے وے ځکه چه هغوی هیڅ خصلت دَ خیر دَ خصلتونونه پریخودلے نه دے بلکه هغے ته ئے وړاندے والے کړیدے) او داجمله دَ رد دَ بدعاتو(عقیدةً اوعملاً) دَپاره پوره قانون دے لکه تاویل په صفاتودَ الله تعالیٰ کښ، وسیلے په قبرونو والوسره عرس،عیدمیلاد النبی،حیله اسقاط اودَجنازو بدعات وغیره که دا ښه کارونه وے نومونږنه به مخکښ صحابه کرامو کړے وے۔

[١٢] دا دلیل نقلی اوترغیب دے قرآن ته ﴿اِمَامًا﴾ یعنی په هغے کښ داسے دلیلونه دَتوحید اودَ صدق دَآخری رسول وؤ چه اقتداء دَهغے ضروری وه ﴿وَرَحْمَةً﴾ یعنی په هغے کښ داسے عقیده اومسائل اواحکام وؤ چه هغه عین رحمت دَ الله تعالیٰ وؤ او دارنګ په هغے باندے عمل کول سبب دَ خاص رحمت دَ الله تعالیٰ وؤ۔

[١٤،١٣] تردے ایت پورے ذکردَ حالاتودَ منکرینو وؤ اوهغوی ته زواجراوجوابونه وؤ اوس ذکرکوی صفات دَ مؤمنانو او هغوی ته بشارت دے۔

شَهْرًا ؕ حَتّٰۤى اِذَا بَلَغَ اَشُدَّهٗ وَبَلَغَ اَرْبَعِيْنَ سَنَةً ۙ قَالَ رَبِّ اَوْزِعْنِيْۤ اَنْ اَشْكُرَ نِعْمَتَكَ الَّتِيْۤ
اَنْعَمْتَ عَلَيَّ وَعَلٰى وَالِدَيَّ وَاَنْ اَعْمَلَ صَالِحًا تَرْضٰىهُ وَاَصْلِحْ لِيْ فِيْ ذُرِّيَّتِيْ ۚ اِنِّيْ تُبْتُ
اِلَيْكَ وَاِنِّيْ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ ﴿۱۵﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ نَتَقَبَّلُ عَنْهُمْ اَحْسَنَ مَا عَمِلُوْا وَنَتَجَاوَزُ عَنْ

میاشتے دی ترهغے پورے چه اورسی کلك والی ته او اورسی ځلویښت کالوته نو وائي دے اے ربه زما توفیق راکړے ما ته چه شکر اوکړم دَ نعمتونو ستا هغه چه تا پیرزو کړی دی په ما باندے او په مور او پلار زما باندے او چه عمل اوکړم دَ سنت په برابر چه ته ئے خوښ کړے او صلاحیت راکړے ما لره په اولاد زما کښ یقیناً ما توبه کړیده تاته او یقیناً ځه دَ پوره حکمونو منونکو نه یم (۱۵) دا سے خلق هغه دی چه قبلوؤ مونږ دَ دوی نه ډیر خائسته عملونه چه دوی کړی دی او تیریدل کوؤ مونږ دَ

[۱۵] دَ دے ایت نه دویم باب دے ترآخرد سورة پورے په دے کښ ذکردَ دوه قسمه انسانانودے اول قسم محسن دَ والدینو اوالله تعالیٰ ته توبه کوؤنکے اوهغه ته بشارت دے اودویم قسم نافرمان دَ والدینو او مکذّب اوهغه ته تخویف اُخروی۔ بیا تخویف دنیوی په ذکردَ واقعے دَ عادیانو دے اوجواب دَشبهے دَ مشرکانوچه الٰهه دَدوی مدد نشی کولے۔ بیا دلیل نقلی دَجن نه دَپاره دَتشجیع په دعوة الی القرآن او صدق رسول اواثبات دَقیامت اواختتام په تشجیع سره په صبرکولو اوتخویف منکرینوته۔ ربط هرکله چه تیرشوی ایاتونوکښ دوه قسمه انسانان ذکرشول چه دَ نبی ﷺ اودَقرآن په باره کښ څوك تکذیب دَ هغه کوی اوځوك ئے تصدیق کوی نواوس ذکرکوی دَ دواړه قسمونه په باره دَ والدینوکښ اوپه دیکښ تسلّی ده نبی ﷺ ته چه هرکله موراوپلارډانسان دپاره ظاهری قریبی احسان کوؤنکی دی لیکن بعضے اولادئے اطاعت کوی اوبعضے ئے نافرمانی کوی نو دارنګ دَ نبی ﷺ په باره کښ هم دوه قسمه انسانان دی۔ په دے (۱۵) کښ ذکردَ اول قسم دے ﴿اِحْسَاناً﴾ نیکی کول دَ والدینوسره عام اومطلق دی اواطاعت دَ هغوی مقید دے په عدم معصیت پورے اواحسان په قول اوعمل اوخدمت اوخرچ کول په هغوی باندے په وخت دَحاجت دَ هغوی کښ اوامربالمعروف اونهی عن المنکرپه نرمه لهجه سره دے ټولوته احسان شامل دے ﴿حَمَلَتْهُ اُمُّهٗ كُرْهاً﴾ هرکله چه دَ پلاردَاحسان اقرار(اکثر) مجبوراًکیدے شی دَ دے وجے نه چه دَهغه نه ویره کیدے شی لیکن مورکمزورے وی نودَ دے وجے نه انسانانوته دَمورتکالیف په تربیت کولوکښ درے قسمونه ذکرکوی یوحمل،دویم وضع دَحمل، دریم سینه ورکول اوبیا دَ سینے نه پریکول اودَ هغے موده ئے ذکرکړیده دوه نیم کاله نومعلومه شوه چه دَ مور حق په نسبت دَپلارسره ډیردے۔ روایت دَابن عباس رضی الله عنهما چه قرطبی اوابن کثیر وغیره راوړے دے دَ هغے مقصد دا دے چه دا دیرش میاشتے تقسیم دی په دواړه حالتونوباندے یعنی کله چه په حمل باندے نهه میاشتے تیرے شی نورضاعت به یوویشت میاشتے وی اوکه حمل شپږ میاشتے وی نورضاعت به دوه کاله وی علی هذا القیاس۔ نوهرکله چه رضاعت دَ دوه کالونه زیاتی کول منع دی په دلیل دَ سورة بقرة (۲۳۳) سره نومعلومه شوه چه دَ حمل دَپیدائش کمه موده شپږمیاشتے دی دَ دے نه کم نشی کیدلے ﴿وَبَلَغَ اَرْبَعِيْنَ سَنَةً﴾ اشاره ده چه عقل دَ انسان پوره کیږی په وخت دَ ځلویښت کاله کښ نوکه دَ دے نه روانده دَهلکوالئے یا دَ ځوانئ په سبب

سَيِّاٰتِهِمْ فِيْٓ اَصْحٰبِ الْجَنَّةِ ؕ وَعْدَ الصِّدْقِ الَّذِيْ كَانُوْا يُوْعَدُوْنَ ﴿١٦﴾ وَالَّذِيْ قَالَ لِوَالِدَيْهِ اُفٍّ
لَّكُمَآ اَتَعِدٰنِنِيْٓ اَنْ اُخْرَجَ وَقَدْ خَلَتِ الْقُرُوْنُ مِنْ قَبْلِيْ ۚ وَهُمَا يَسْتَغِيْثٰنِ اللّٰهَ وَيْلَكَ اٰمِنْ ۖ اِنَّ
وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ ۚ فَيَقُوْلُ مَا هٰذَآ اِلَّآ اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿١٧﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ حَقَّ عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ فِيْٓ
اُمَمٍ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ ؕ اِنَّهُمْ كَانُوْا خٰسِرِيْنَ ﴿١٨﴾ وَلِكُلٍّ دَرَجٰتٌ مِّمَّا عَمِلُوْا ۚ

کناهونو دَ دوی نه وی به دوی په جنت والو کښ وعده دَ رشتین والی هغه چه کیدے شوه وعده دَ دوی سره (١٦) او هغه څوك چه اُوئیل ئے مور او پلار خپل ته افسوس دے په تاسو دواړو ایا ویره وئے تاسو ما لره چه څه به بیا را اویستلے شم (دَ زمکے نه) او حال داچه تیرے شویدی ډیرے پیړئے زما نه مخکښ او دے دواړو فریاد کوؤ اللّٰه تعالیٰ ته (دَ څوئے په باره کښ) تباه به شے ایمان راوړه یقیناً وعده دَ اللّٰه تعالیٰ رشتیا ده نو وائي نه دی دا مګر نقل شوی (دروغ) قصے دَ زړو خلقو دی (١٧) داسے کسان هغه دی چه پوره شویده په دوی باندے فیصله دَ عذاب (داخلیږی) به په هغه ډلو کښ چه تیر شویدی دَ دوی نه مخکښ دَ پیریانو او انسانونه یقیناً دوی دَ تاوان کارونه کول (١٨) اودَ هر چا دپاره درجے دی دَوجے دَ عملونو دَ دوی نه

چه غلط کارونه ئے کړے وی لیکن کله چه څلویښت کالوته اورسیږی نو اسباب دَکناهونوئے کمزوری شول اوعقل ئے پوره شواوس خوضرورتوبه اوباسی اوشکر گذارئے ته ملا اوتړی اوداهم خوش قسمتی دَ انسان ده۔ ﴿اَنْ اَشْكُرَ نِعْمَتَكَ﴾ نظم الدرر کښ لیکلی دی چه لوے شکردَ نعمت الٰهی توحید فی العبادات دے ﴿وَاَنْ اَعْمَلَ صَالِحاً تَرْضَاهُ﴾ ترضهُ تفسیردَ صالح دے یعنی چه موافق وی دَکتاب اوسنت سره یا تَرْضَاهُ، په معنیٰ دَ قبولیت دے۔ یعنی عمل اګرچه صالح وی لیکن قبلول په اختیار دَ اللّٰه تعالیٰ کښ دی ﴿وَاَصْلِحْ لِيْ فِيْ ذُرِّيَّتِيْ﴾ صلاحیت دَ اولاد اشاره ده بقاء اواجراء دَ توحید اودَ عمل صالح ته په اولاد دَ دهٔ کښ اوصلاحیت دَ اولادهم فائده ده دپاره دَوالدینواوهر کله چه دلته اجراء دَ صلاحیت مراد ده دَدے وجے نه متعدی کړو په فِيْ سره۔

[١٦] دا بشارت دے دپاره دَ دے قسم کسانواولفظ دَ اُولٰٓئِكَ، دلیل دے چه دغه ایت مخکنے خاص په یوشخص پورے نه دے لکه بعض مفسرینوسبب نزول کښ نبی ﷺ ذکرکړے دے اوبعضوابوبکر ﷺ ﴿اَحْسَنَ مَاعَمِلُوْا﴾ مراد دَ دے نه ټول حسنات دی نواحسن په معنیٰ دَ هغه څیز دیے چه په هغه کښ صفت دَ حسن وی یا احسن مقابل دَ حسن دے اوحسن مباح ته وئیلے کیږی چه نه په هغے کښ ثواب وی اونه عذاب۔

[١٧] دا ذکردَ دویم قسم دے نافرمان دَموراوپلارپه مسئله دَبعث بعد الموت کښ یعنی صرف دَ نافرمان ذکرکول مقصدنه دے اګرچه داهم ګناه دے بلکه هغه نافرمان دَ والدینومراد دی چه په اسلامی عقیده کښ دَموراوپلارمخالفت کوی اودا درجه دَکفرده ﴿وَقَدْ خَلَتِ الْقُرُوْنُ مِنْ قَبْلِيْ﴾ دا دلیل دے دَمنکردَ بعث چه مخکښ ډیرخلق تیرشویدی اواوسه پورے یوهم دوباره نه دے پیدا شوے اوحال داچه دا دلیل ئے باطل دے ځکه مدعا خو دا نده چه اوس به دُنیا کښ خلق دوباره ژوندے کیږی بلکه دوباره ژوند به دَدے دنیا دَ فنانه روستو وی ﴿فَيَقُوْلُ مَاهٰذَآ﴾ دا دویمه طریقه دَ انکاردَ منکرده یعنی مخکښ خلقو کښ هم داخبره دَ قیامت ذکرشویده لیکن دروغ قِصّے دی۔

[١٨] دا تخویف اُخروی دے دَ دویم قسم دپاره ﴿اُولٰٓئِكَ﴾ دادلیل دے چه دا ایت مخکنے عام دے خاص نه

وَلِيُوَفِّيَهُمْ أَعْمَالَهُمْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿١٩﴾ وَيَوْمَ يُعْرَضُ الَّذِينَ كَفَرُوا عَلَى النَّارِ أَذْهَبْتُمْ طَيِّبَاتِكُمْ
فِي حَيَاتِكُمُ الدُّنْيَا وَاسْتَمْتَعْتُمْ بِهَا فَالْيَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ الْهُونِ بِمَا كُنْتُمْ تَسْتَكْبِرُونَ فِي
الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَبِمَا كُنْتُمْ تَفْسُقُونَ ﴿٢٠﴾ وَاذْكُرْ أَخَا عَادٍ إِذْ أَنْذَرَ قَوْمَهُ بِالْأَحْقَافِ وَقَدْ خَلَتِ ع
النُّذُرُ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا اللَّهَ إِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿٢١﴾

او چه پوره ورکړی الله تعالی دوی ته جزا د عملونو د دوی او په دوی باندے به هیڅ ظلم نشی کیدے(۱۹) اوپه کومه ورځ چه پیش به کړے شی کافران په اور باندے (اوبه وئیلے شی) وړی دی تاسو خپلے مزے په ژوند دُنیوی ستاسو کښ او فائدے هم اخستلے دی په هغے سره نو نن به بدله درکیدلے شی تاسوته د عذاب د ذلت (سپك والی) په دے وجے سره چه تاسو لوئي کوله په ملك کښ په ناحقه سره او پدے وجه سره چه تاسو حکمونه د الله تعالی نه منل (۲۰) او یاد کړه (دوی ته) رور د عادیانو کله چه ویره ئے ورکوله قوم خپل ته په احقاف ځائے کښ او حال دا چه تیر شویوؤ ویره ورکوؤنکی مخکښ د دهٔ نه او روستو د دهٔ نه (پدے خبره) چه بندگی مکوئے د هیڅا سیوا د الله تعالی نه یقیناً ویریږم ځه په تاسو باندے د عذاب د ورځے لوئیے نه (۲۱)

دے په عبدالرحمٰن بن ابی بکریا عبد الله بن اُبیٔ پورے لکه چه مفسرینوپه سبب د نزول کښ هغوی ذکرکړے دی اوبیضاوی اوبقاعی ردکړے دے په هغه مفسرینوباندے چه چا سبب نزول عبد الرحمٰن بن ابی بکر گرځولے دے ﴿أُمَمٍ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِمْ﴾ په دے کښ د دوی متبوعینوپیرانواوملایان گمراهانوته اشاره ده ۔

[۱۹] دا د فریقینوسره تعلق لری په طریقه د دفع کولو د وهم سره۔وهم داوؤ چه د دوی دواړو فریقو په منیځ کښ د فرق وجه څه ده؟ حاصل جواب دا دے چه سبب د فرق عملونه د دوی دی یعنی عملونه مختلف دی نو د دے په سبب درجات او جزا مختلفه ده۔

[۲۰] دا تخویف اُخروی دے اول سبب محرومیدل د طیباتونه په آخرت کښ ذکر کوی او هرکله چه ټول طیبات روك شی نو نتیجه ئے ذلت اوسپکوالے وی د دے وجے نه ﴿أَذْهَبْتُمْ طَيِّبَاتِكُمْ﴾ مراد د طیبات نه مزیدارخوراك څښاك پوشاك دے چه زړه ئے غواړی نوحاصلوی یا مراد د دے نه ځوانی اوقوتونه خرچ کول دی په مزوحاصلولود دُنیا کښ اود آخرت د ډاره هیڅ محنت نه دے کړے دویم قول د ضحاك نه نقل دے او اکثرو مفسرینو اول قول راوړے دے اوپه هغے کښ د عمرﷺ ډیر روایات نقل کړے شوی دی۔

فائده: دا ایت اگرچه صراحةً په باره د کافرانوکښ وارد دے خوبیاهم صحابه کرامود دے نه خوف کوؤد وجے د ډیرتقویٰ نه نو کوم آیاتونه چه عام وی نومؤمنا لره د هغے په باره کښ ضرور ویره پکار ده دا بهانه د نه کوی چه دا زمونږپه باره کښ نه دی نازل شوی ﴿بِمَا كُنْتُمْ تَسْتَكْبِرُونَ﴾ استکبارپه عقیده کښ دے په ارتکاب د شرك اوکفر سره او فسق په عملونوکښ دے۔

[۲۱] دا دلیل نقلی دے د ډاره د تسلّیٔ ورکولو نبی ﷺ ته لکه چه وصینا الانسان اه، کښ هم تسلی وه او داسے دا د تخویف دنیوی یومثال دے مشرکینومکذبینوته د ډاره د عبرت اخستلو۔ اوتخصیص د عادیانوپه ذکرسره د دے وجے دے چه د دوی بدنونه هم قوی وؤبادشاهی ئے هم وسیع ده سرکشی ئے هم ډیره وه۔

قَالُوْٓا اَجِئْتَنَا لِتَاْفِكَنَا عَنْ اٰلِهَتِنَا ۚ فَاْتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿۲۲﴾ قٰلَ اِنَّمَا
الْعِلْمُ عِنْدَ اللّٰهِ ۖ وَاُبَلِّغُكُمْ مَّآ اُرْسِلْتُ بِهٖ وَلٰكِنِّيْٓ اَرٰىكُمْ قَوْمًا تَجْهَلُوْنَ ﴿۲۳﴾ فَلَمَّا رَاَوْهُ عَارِضًا مُّسْتَقْبِلَ
اَوْدِيَتِهِمْ ۙ قَالُوْا هٰذَا عَارِضٌ مُّمْطِرُنَا ۭ بَلْ هُوَ مَا اسْتَعْجَلْتُمْ بِهٖ ۭ رِيْحٌ فِيْهَا عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۲۴﴾ تُدَمِّرُ كُلَّ
شَيْءٍۭ بِاَمْرِ رَبِّهَا فَاَصْبَحُوْا لَا يُرٰٓى اِلَّا مَسٰكِنُهُمْ ۭ كَذٰلِكَ نَجْزِي الْقَوْمَ الْمُجْرِمِيْنَ ﴿۲۵﴾ وَلَقَدْ مَكَّنّٰهُمْ
فِيْمَآ اِنْ مَّكَّنّٰكُمْ فِيْهِ وَجَعَلْنَا لَهُمْ سَمْعًا وَّاَبْصَارًا وَّاَفْـِٕدَةً ۖ فَمَآ اَغْنٰى عَنْهُمْ سَمْعُهُمْ وَلَآ اَبْصَارُهُمْ

دوی اُوئیل ایاته راغلے ئیے مونږ ته دَ دے دپاره چه واړوے مونږه دَ بندګئ دَ معبودانو زمونږنه نو راوړه مونږ ته هغه عذاب چه ویروے ته مونږه که چرے ته ئیے دَ رشتینونه (۲۲) دهٔ اُوئیل یقیناً علم (دَ عذاب) دَ الله تعالیٰ سره دے او رسوم تاسو ته هغه پیغام چه رالیږلے شوے یم په هغے سره اولیکن ځه وینم تاسو لره داسے قوم چه ناپوهی کوئے (۲۳) پس هر کله چه دوی اولیدله پلنه وریځ چه مخامخ راتلله دَ دوی میدانونو ته دوی اُوئیل دا پلنه وریځ ده چه باران به اوروی په مونږ باندے (اُوئیلے شو) بلکه دا هغه څیز دے چه تاسو په تلوار غوختلو دا سیلئے ده په دے کښ عذاب درد ناك دے (۲۴) هلاکوی هر څیز لره په حکم دَرب دَ دے نو صبا کړو دوی پدا سے حال چه نه ښکاریدل سیوا دَ کورونو دَ دوی نه دغسے بدله ورکوؤ مونږ قوم مجرمانو ته (۲۵) او یقیناً طاقت ورکړو مونږ دوی ته په هغه څیزو نو کښ چه ندے درکړے مونږ تاسوته طاقت په هغے کښ او ورکړی موو دوی لره غوږونه او سترګے او زړونه نو وانه ړوؤ دَ دوی نه غوږونو دَ دوی اونه سترګو دَ دوی

اوابادئے ئیے هم پخے وے لیکن سرهٔ دَ دے دومره قوت نه هغوی دَ عذاب دَ الله تعالیٰ نه بچ نه شول نودا مشرکین مکه اونور کافران به څه رنګ بچ شی ﴿بِالْاَحْقَافِ﴾ جمع دَ حقف ده دَ شګو ډیرئے ته وئیلے کیږی چه اوګده اوغټه وی لیکن غرترینه نه وی جوړشوے او دایوعلاقه ده دَ عمان نه ترمهره پورے۔

[۲۲] په دے کښ انکاردَهغوی ذکرکړے دے یعنی په دے مسئلے سره ته مونږ لره زمونږدَ الٰهؤدَ تعظیم اودَ بندګئ نه آړوے۔

[۲۳] ﴿قَالَ اِنَّمَا الْعِلْمُ﴾ دا جواب دے دَ هغوی دَ دے قول فَاْتِنَا، اودا جواب دے په ترقئ سره یعنی عذاب راوستل خولږے خبره ده بلکه ماسره دَ هغے علم هم نیشته چه کله به وی اوخه رنګ به وی اوپه دے کښ مقصد اظهار دَ شان دَ رسول دے چه هغه غیب دان نه وی بلکه دَهغه صفت دا دے ﴿وَاُبَلِّغُكُمْ مَّآ اُرْسِلْتُ بِهٖ﴾ چه مسئله دَ توحید اوتخویف بالعذاب دے ﴿تَجْهَلُوْنَ﴾ شرك کول، عذاب په تادئے سره غوښتل، عذاب په اختیارپاپه علم دَپیغمبرکښ ګنړل داټول دَجهل کارونه دی۔

[۲۴،۲۵]دا ذکردَعذاب دَهغوی دے په تفصیل سره ﴿قَالُوْا هٰذَا﴾ مفسرینولیکلی دی چه دَ دوی باران خه موده بندشوے وؤنوهرکله چه دوی وریځه اولیدله نودوی دَ خپل عقل موافق په هغے باندے خوشحالی ښکاره کړه چه اوس به باران اوشی یعنی دَخپلوبداعمالودَ سزا هیڅ خیال ئیے هم اونکړو ﴿بَلْ هُوَ مَا اسْتَعْجَلْتُمْ بِهٖ﴾ دا قول دَالله تعالیٰ دے په واسطه دَ هودﷺ سره یا داپه زبان حال سره دے۔ اواستعجال دَ

وَلَآ اَفۡدَتُهُمۡ مِّنۡ شَیۡءٍ اِذۡ كَانُوۡا یَجۡحَدُوۡنَ بِاٰیٰتِ اللّٰهِ وَحَاقَ بِهِمۡ مَّا كَانُوۡا بِهٖ یَسۡتَهۡزِءُوۡنَ ﴿۲۶﴾ وَلَقَدۡ
اَهۡلَكۡنَا مَا حَوۡلَكُمۡ مِّنَ الۡقُرٰی وَصَرَّفۡنَا الۡاٰیٰتِ لَعَلَّهُمۡ یَرۡجِعُوۡنَ ﴿۲۷﴾ فَلَوۡلَا نَصَرَهُمُ الَّذِیۡنَ اتَّخَذُوۡا
مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ قُرۡبَانًا اٰلِهَةً ؕ بَلۡ ضَلُّوۡا عَنۡهُمۡ ۚ وَذٰلِكَ اِفۡكُهُمۡ وَمَا كَانُوۡا یَفۡتَرُوۡنَ ﴿۲۸﴾ وَاِذۡ صَرَفۡنَاۤ
اِلَیۡكَ نَفَرًا مِّنَ الۡجِنِّ یَسۡتَمِعُوۡنَ الۡقُرۡاٰنَ ۚ فَلَمَّا حَضَرُوۡهُ قَالُوۡۤا اَنۡصِتُوۡا ۚ فَلَمَّا قُضِیَ وَلَّوۡا اِلٰی

اونه زړونو دَ دوی هیڅ حصه (دَ عذاب نه) ځکه چه دوی انکار کوؤ دَ اياتونو دَ اللّٰه تعالیٰ نه او راګیر کړو دوی لره هغه څیز چه دوی ورپورے ټوقے کولے (۲۶) او یقیناً هلاك کړی دی مونږ چا پیره ستاسونه ډیر کلی او قسما قسم بیان کړی وؤ مونږ اياتونه دے دپاره چه دوی را اوګرځی دَ باطل نه (۲۷) نو ولے مدد نه کوو دَ دوی سره هغه کسانو چه دوی جوړ کړی وؤ سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه دپاره دَ نزدیکت (اللّٰه تعالیٰ ته) معبودان بلکه هیر شو دَ دوی نه او دا دروغ دَ دوی وؤ او هغه خبرے وے چه دوی دَ ځان نه جوړولے (۲۸) او کله چه را واړوله مونږ تاته یو ډله دَ پیریانو نه چه غوږئیے کیخودلو قرآن ته پس هر کله چه رانزدے شو نو دوی اوئیل (یوبل ته) چپ شئے نو هر کله چه پوره شو لوستل روان شو دوی

دوی په دے لفظ سره تیرشوفاتنا بما تعدنا ﴿بِاَمۡرِ رَبِّهَا﴾ اشاره ده چه اسباب تاثیرنه شی کولے بغیرَ امرَ اللّٰه تعالیٰ نه ﴿كَذٰلِكَ﴾ دا تخویف دے روستو مجرمانوته۔

[۲۶] په دے کښ خطاب دے موجوده مجرمانوته اوذکرکوی دَعادیانودوه قوتونه اویوسبب عذاب اواشاره ده چه په هیڅ قوت دَ دوی سره عذاب نه شو دفع کیدلے یوقوت تمکین دے مراد دَ دے نه پاځه مکانونه غټ بدنونه ډیرمالونه دی۔ اودویم قوة ﴿وَجَعَلۡنَا لَهُمۡ سَمۡعًا﴾ په دے کښ اشاره ده قوة باطنیه ته لکه فهم، ادراك اوهوښیار په دُنیوی کارونو کښ او دارنګ دا اسباب وؤدَحق معلومولودَپاره ﴿فَمَاۤ اَغۡنٰی﴾ یعنی هرکله چه دا حواس دوی دَحق دپاره استعمال نه کړل بلکه صرف دَ دُنیاوی علوموا وتجربو دپاره ئیے استعمال کړل نوپه هغے سره عذاب دَ اللّٰه تعالیٰ دفع نه شو۔ اوهرکله چه علمی قوت دَ مالی قوت نه مضبوط دے اوپه علمی قوت سره دوی ته فائده او نه رسیدله نو په مالی قوت سره خوپه طریقه اولی عذاب نه شی دفع کیدلے دَ دے وجے نه عدم افاده دَ سمع او بصروغیره کښ ذکر کړه اوعدم افاده دَ تمکین ئیے ذکرنه کړه دَ هغے ذکرئیے مقایسةً پریخود۔ اوسبب دَ عذاب ئیے ذکرکړے دے په ﴿اِذۡ كَانُوۡا یَجۡحَدُوۡنَ﴾ سره نو معلومه شوه چه دَ اسبابِ الٰهیه په مقابله کښ هیڅ طاقت فائده نشی ورکولے۔

[۲۷] پدیکښ تخویف دنیوی دے په اجمالی طریقے سره ﴿مَاحَوۡلَكُمۡ مِّنَ الۡقُرٰی﴾ اشاره ده واقعے دَ ثمودیانو او قوم دَ لوط علیه السلام او اهل مدین ته چه دوی حجازوالوته نزدے وؤ۔

[۲۸] دا رد دَ شرك دے چه متفرع دے په مخکښ واقعه باندے او دا جواب دَ شبهے دَ مشرکانو دے چه دوی وائی چه مونږ یا بابا رامدد شے یاشیخ عبد القادر وغیره دَد ے وجے نه وایو چه دَ دے په برکت سره زمونږ عذابونه مصیبتونه دفع کیږی حاصل دَ جواب دا دے چه تیرشوی مشرکانو(عادیانو وغیره) هم داسے کول لیکن هرکله چه په هغوی باندے عذاب راغے نو دَ دوی الٰهودَ دوی سره امداد اونه کړو ﴿قُرۡبَانًا﴾ هرهغه څیز دے چه په هغے سره تقرب کیدے شی اللّٰه تعالیٰ ته۔ نو مشرکانو بزرګان اواولیاء دَ اللّٰه تعالیٰ دَ

قَوْمِهِمْ مُّنْذِرِيْنَ ﴿۲۹﴾ قَالُوْا يٰقَوْمَنَآ اِنَّا سَمِعْنَا كِتٰبًا اُنْزِلَ مِنْۢ بَعْدِ مُوْسٰى مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ يَهْدِيْٓ اِلَى الْحَقِّ وَاِلٰى طَرِيْقٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۳۰﴾ يٰقَوْمَنَآ اَجِيْبُوْا دَاعِيَ اللّٰهِ وَاٰمِنُوْا بِهٖ يَغْفِرْ لَكُمْ مِّنْ ذُنُوْبِكُمْ وَيُجِرْكُمْ مِّنْ عَذَابٍ اَلِيْمٍ ﴿۳۱﴾ وَمَنْ لَّا يُجِبْ دَاعِيَ اللّٰهِ فَلَيْسَ بِمُعْجِزٍ فِي الْاَرْضِ

خپل قوم ته (اراده کوؤنکی) دَ ویره ورکولو (۲۹) دوی اُوئیل اے زمونږ قومه! یقیناً مونږ اوریدلے دے یو کتاب چه نازل کړے شویدے روستو دَ موسیٰ(علیه السلام) نه تصدیق کوؤنکے دے دَ هغه کتابونو چه دَ دهٔ نه مخکښ دی هدایت کوی حق طرف ته او نیغے لارے ته (۳۰) اے قومه زمونږ قبول کړئے (دعوت) دَ دعوت کوؤنکی دَ اللّٰه تعالیٰ او ایمان راوړئے په دهٔ باندے بخنه به اوکړی تاسوته دَ ګناهونو ستاسو او پناهی به درکړی تاسوته دَ عذاب درد ناك نه (۳۱) او چا چه قبول والے اونکړو (دَ دعوت) دَ دعوت کوؤنکی دَ اللّٰه تعالیٰ نو نه دے بچ کیدونکے دَ عذاب دَ اللّٰه تعالیٰ نه په ټول ملك کښ

نزدیکت دپاره وسیلے جوړے کړیدی دارنګ سورة زمر(۲) کښ تیرشویدی ﴿اِفْكُهُمْ﴾ اوړیدل دَ توحید نه یا ذالك اشاره ده ضلال دَ اِلٰهه ته او اِفْكُهُمْ کښ مضاف پټ دے یعنی اثرِافْكِهِمْ۔

[۲۹] دا دلیل نقلی دے دَ جناتونه دَپاره دَ اثبات دَ صدق دَ رسول او دَ قرآن او په دے کښ تسلّی هم ده نبی ﷺ ته او دارنګ په دے واقعه کښ ذکر دَ طریقے دَ دعوت دے چه اول علم دَ قرآن دے بیا دعوت دے قرآن ته بیا دعوت دے اطاعت او اجابت دَ رسول ته۔ دا واقعه په سفر دَ طائف کښ وه چه نبی ﷺ بطن نخله کښ قرآن لوستلونوجناتو واؤریدل یا دا دعوت دَرسول اللّٰه ﷺ پیریانوته په لیلة الجن کښ دے او بیادغه جنات نبی ﷺ داعیان مقرر کړل دپاره دَ قوم دَ هغوئ ﴿نَفَرًا﴾ اووه کسان وؤ یانهه کسان وؤبعضے دَ نجران اوبعضے دَ نصیبین وؤ ﴿وَلَّوْا اِلٰى قَوْمِهِمْ مُّنْذِرِيْنَ﴾ یعنی دوی دَ هغه وخت نه په اراده دَ انذاردَ خپل قوم سره روان شو اودا ادب دے دَ هرسړی دَپاره چه علم دَ قرآن اوسنت حاصل کړی نوهغه دے خپل قوم ته اورسوی۔

[۳۰] په دے ایت کښ ذکردے دعوت کول دَجناتوقرآن کریم ته اودا خائسته طریقه دَ دعوت وه ﴿مِنْۢ بَعْدِ مُوْسٰى﴾ دَ عیسیٰ(علیه السلام) ذکرئے اونه کړو دَ دے وجے نه چه دوی دَ عیسیٰ(علیه السلام) نه نه وو خبرشوی یا دَ دے وجے نه چه دَ انجیل اصل هم تورات وؤ ﴿يَهْدِيْٓ اِلَى الْحَقِّ﴾ مراد دَ حق نه صحیح عقیده ده چه امریقینی او واقعی دے اومراد دَ طریق مستقیم نه اتباع دَ رسول ده یعنی دَ قرآن حاصل دعوت دے توحید اوسنت ته۔

[۳۱] په دے کښ دعوت دے تصدیق دَ رسول اللّٰه ﷺ اواتباع دَ هغه ته ﴿دَاعِيَ اللّٰهِ﴾ مراد دَ دے نه رسول اللّٰه ﷺ دے اودا دلیل دے چه هغه دَ ټول انس وجن دپاره رالیږلے شوے وؤ او دا اشاره کیدے شی چه جنت ته به ئے داخلوی ځکه چه ګناهونه مانع وؤدَ دخول دَ جنت نه نوچه هغه ئے اوبخل نوجنت ته دَ داخلیدونه مانع پاتے نه شو او دامسئله اختلافیه ده چه جنات به جنت ته داخلیږی او که نه صحیح داده چه دَ دوی حکم هم پشان دَ انسانانودے اودَ استحقاق دَ جنت دپاره چه کوم دلیلونه دپاره دَ بشردی نو هغه دوی ته هم شامل دی۔

وَ لَيْسَ لَهٗ مِنْ دُوْنِهٖۤ اَوْلِيَآءُ ؕ اُولٰٓئِكَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۳۲﴾ اَوَ لَمْ يَرَوْا اَنَّ اللّٰهَ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ
وَ الْاَرْضَ وَ لَمْ يَعْيَ بِخَلْقِهِنَّ بِقٰدِرٍ عَلٰۤى اَنْ يُّحْيِۦَ الْمَوْتٰى ؕ بَلٰۤى اِنَّهٗ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۳۳﴾
وَ يَوْمَ يُعْرَضُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا عَلَى النَّارِ ؕ اَلَيْسَ هٰذَا بِالْحَقِّ ؕ قَالُوْا بَلٰى وَ رَبِّنَا ؕ قَالَ فَذُوْقُوا
الْعَذَابَ بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُوْنَ ﴿۳۴﴾ فَاصْبِرْ كَمَا صَبَرَ اُولُوا الْعَزْمِ مِنَ الرُّسُلِ وَ لَا تَسْتَعْجِلْ لَّهُمْ ؕ
كَاَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَ مَا يُوْعَدُوْنَ ۙ لَمْ يَلْبَثُوْۤا اِلَّا سَاعَةً مِّنْ نَّهَارٍ ؕ بَلٰغٌ ۚ فَهَلْ يُهْلَكُ
اِلَّا الْقَوْمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿۳۵﴾ ع

او نیشته دهٔ لره سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه مددګاران دغه کسان په ګمراهئ ښکاره کښ دی (۳۲) ایا او دوی نه ګوری چه یقیناً اللّٰه تعالیٰ هغه ذات دے چه پیدا کړیدی اسمانونه او زمکه او نه دے ستړے شوے په پیدائش دَ هغے سره قدرت لرونکے دے پدے خبره باندے چه ژوندی به کړی مړی هاؤ یقیناً هغه په هر څیز باندے قدرت لرونکے دے (۳۳) او په کومه ورځ چه پیش به کړے شی کافران په اور باندے (اوبه وئیلے شی) ایا نه دے دا حق دوی به اُوائي هاؤ قسم دے په رب زمونږ باندے اوبه وائي اللّٰه تعالیٰ نو اوځکئے عذاب په دے وجه چه تاسو کفر کوؤ (۳٤) نو صبر اوکړه لکه چه صبر کړے وؤ پوخ کار کوؤنکو رسولانو او په تادئے سره دوی لره عذاب مه غواړه یقیناً دوی په کومه ورځ چه اوینی هغه چه دوی سره ئیے وعده کیدیشی (ګمان به اوکړی) چه نه وؤ حصار شوی دوی مګر یو ساعت دَ ورځے نه دا رَسَول دی پس نه به شی هلاکولے په عذاب سره مګر قوم نافرمانی کوؤنکی (۳۵)

[۳۲] دازجراوتخویف دے په ترك دَ اجابت دَ رسول اللّٰهﷺ سره ﴿وَلَيْسَ لَهٗ مِنْ دُوْنِهٖۤ اَوْلِيَآءُ﴾ اشاره ده چه بزرګان وغیره هم دَ دوی امداد نه شی کولے یعنی نه پخپل زور سره بچ کیدے شی اونه دَ بل چاپه امداد سره۔

[۳۳] په دے ایت کښ زجر دے منکرینو دَ قیامت ته چه دوی سره دَ علم نه په قدرت دَ اللّٰه تعالیٰ باندے انکارکوی دَ بعث نه اودا تفسیردَ ضلال مبین دے کوم چه مخکښ ایت کښ ذکرشویدے ﴿وَلَمْ يَعْيَ بِخَلْقِهِنَّ﴾ اودلیل ئیے دا دے چه تراوسه پورے په نظام دَ اللّٰه تعالیٰ کښ هیڅ نقصان نه دے راغلے که چرے ستړے شویے نو ضرور به نقصان پیدا شویوؤلکه سورة ق(۱۵) کښ۔

[۳٤] دَ اثبات دَ قیامت نه روستودَ هغے هیبتِ شان بیانوی دَپاره دَ تخویف مخکښ ایت(۲۰) کښ هم تیرشویدی په هغے کښ اسباب دَ عذاب ذکرکړیدی اوپه دے کښ اقرار دَ منکرینوذکرکوی سرهٔ دَ عذاب نه۔

[۳۵] هرکله چه ذکرکړے شوانکارد منکرینو دَتوحید او دَ رسالت اوقرآن او قیامت نه نو اوس تسلّی ورکوی پیغمبرﷺ ته په امرسره په صبرکولواوپه عدم استعجال دَعذاب سره ﴿اُولُوا الْعَزْمِ مِنَ الرُّسُلِ﴾ العزم نه مراد پوخ پاتے کیدل دی په دین باندے سرهٔ دَهرقسم مصیبتونونه بغیردَشکایت نه مخلوق ته یا مراد دے نه پنځه رسولان دی چه په سورة شوریٰ (۱۳) او احزاب(۷) کښ ذکردی﴿مَايُوْعَدُوْنَ﴾عام دے که دَ دُنیا عذاب وی اوکه دَ آخرت وی ﴿فَهَلْ يُهْلَكُ اِلَّا الْقَوْمُ الْفٰسِقُوْنَ﴾ دا هم داخل دے په تسلّئ دَ پیغمبرکښ یعنی روستو دَ تبلیغ نه عذاب به خاص راځی په نافرمانو باندے هاں که تبلیغ او نشی نو عذاب به عام راځی۔

سُوْرَةُ مُحَمَّدٍ (۴۷) مَدَنِيَّةٌ (۹۵) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۳۸ رُكُوْعَاتُهَا ۴

اَلَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَضَلَّ اَعْمَالَهُمْ ① وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَاٰمَنُوْا بِمَا نُزِّلَ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّهُوَ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّهِمْ ۙ كَفَّرَ عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ وَاَصْلَحَ بَالَهُمْ ② ذٰلِكَ بِاَنَّ الَّذِيْنَ

هغه کسان چه کفر ئیے کړیدے او اړوی خلقو لره دَ لارے دَ اللّٰه تعالیٰ نه بے کاره کړیدی عملونه دَ دوی (۱) او هغه کسان چه ایمان ئیے راوړے دے او عملونه ئیے کړیدی په برابر دَ سنت سره او ایمان ئیے راوړے دے په هغه (وحی) چه نازل کړے شویده په محمّد(ﷺ) باندے او دا حق دے دَ طرف دَ رب دَ دوی نه لرے کوی اللّٰه دَ دوی نه بدئے دَ دوی او خائسته کوی حال دَ دوی (۲) دا پدے وجه سره چه یقیناً

سورة محمَّد

اوبل نوم ئیے سورة القتال دے۔

داسورة او سورة فتح اوحجرات دا څلورم باب دے دَ آخرے حصے نه په دے کښ مسئله دَ قتال او انتظام ذکر کوی۔

ربط: دَ دے سورة دَ ماقبل سره په ډیرو وجوهوسره دے اوله وجه دا ده چه ماقبل کښ ذکر دَ دعوت اوتبلیغ وؤ نو په دے سورة کښ امردے په قتال فی سبیل اللّٰه تعالیٰ سره۔ دویمه وجه دا ده چه دَ هغه سورة په آخرکښ اهلاك دَ فاسقینو ذکرشونو دَ دے سورة په اول کښ ذکردَ علت دَ هغے دے۔

دعویٰ دَ دے سورة : امر په قتال فی سبیل اللّٰه سره په (٤) کښ په ذکردَ اتلس احوالو دَکافرانواوهغه علتونه دَ قتال دی او اتلس صفات دَمؤمنانودپاره دَ تیزئے ورکولو په قتال باندے اواتلس قبائح دَ منافقینو چه هغه اوصاف مانعه دَ قتال دی۔ او دعویٰ دَ توحید چه مقصد دَ قتال دے ذکر ده په ایت (۱۹) کښ۔

خلاصه دَ سورة: دا سورة تقسیم دے دوه بابونوته اول باب تر(۱۹) پورے دے په دے کښ تفصیلاً ذکرکوی احوال دَ مشرکینواتلس اوصفات دَ مؤمنانواتلس په طریقه دَ تقابل دَ فریقینوسره۔ اوبیا تخویف په ذکر دَ قرب دَ قیامت سره په (۱۸) کښ او دعویٰ دَ توحید په (۱۹) کښ۔

تفسیر

[۱] په دے ایت کښ درے حالات دَکافرانو ئیے ذکرکړیدی دَپاره دَ زجراوهرهغه څوك چه دا اوصاف پکښ وی نودا ایت هغوی ته شامل دے ﴿اَضَلَّ اَعْمَالَهُمْ﴾ مراد دَ دے نه هغه عملونه دَ خیردی چه ورسره کفر اوشرك کوی لکه عبادات،خائسته اخلاق، قیدیان خلاصول، صدقات کول، خپلولی پالل، میلمستیا ورکول، کاونډیانوسره احسان کول داټول برباد دی۔

[۲] په دے کښ دَ مؤمنانوپنځه حالات ذکرکړیدی اوبشارت دے هغوی ته ﴿وَاٰمَنُوْا بِمَا نُزِّلَ عَلٰى مُحَمَّدٍ﴾ هرکله چه په دے سورة کښ مقصدذکروؤدَ دے امت او اولنی دواړه صفات ټولو مؤمنانوته شامل وؤ نو داصفت ئیے ذکرکړوچه معلومه شی چه فقط دا امت مراد دے ﴿وَاَصْلَحَ بَالَهُمْ﴾ مراد دَ بال نه مطلق حال او شان دَ دوی دے که دُنیوی وی اوکه دینی وی او دَ اصلاح نه مراد په هغے کښ فائدے دُنیوی او

كَفَرُوا اتَّبَعُوا الْبَاطِلَ وَاَنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّبَعُوا الْحَقَّ مِنْ رَّبِّهِمْ ؕ كَذٰلِكَ يَضْرِبُ اللّٰهُ لِلنَّاسِ اَمْثَالَهُمْ ۝٣
فَاِذَا لَقِيْتُمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فَضَرْبَ الرِّقَابِ ؕ حَتّٰۤى اِذَاۤ اَثْخَنْتُمُوْهُمْ فَشُدُّوا الْوَثَاقَ ۙ فَاِمَّا مَنًّۢا بَعْدُ
وَاِمَّا فِدَآءً حَتّٰى تَضَعَ الْحَرْبُ اَوْزَارَهَا ۚ ذٰلِكَ ؕ وَلَوْ يَشَآءُ اللّٰهُ لَانْتَصَرَ مِنْهُمْ ۙ وَلٰكِنْ لِّيَبْلُوَا
بَعْضَكُمْ بِبَعْضٍ ؕ وَالَّذِيْنَ قُتِلُوْا فِىْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَلَنْ يُّضِلَّ اَعْمَالَهُمْ ۝٤ سَيَهْدِيْهِمْ وَيُصْلِحُ بَالَهُمْ ۝٥ وَ

کافرانو تابعداری دَ باطل کړیده او یقیناً مؤمنانو تابعداری دَهغه حق کړے ده چه دَ دوی دَ رب دَ طرف نه دے دغسے بیانوی اللّٰه تعالیٰ خلقو لره حالات دَهغوی (۳) نو کوم وخت چه مخامخ شئے دَ کافرانو سره (په میدان جنګ کښ) نو او وهئے سټونه دَ دوی تردے چه هر کله ښه وینے توئے کړئے دَ دوی نو کلك کړئے ترل دَ هغوی نو یا خو احسان اوکړئے احسان کول روستو (دَترلونه) او یا ترینه فدئیے واخلئے تر هغے پورے چه کیږی دی جنګ سامان خپل دا خبره ده او که چرے اوغواړی اللّٰه تعالیٰ نو بدله به واخلی پخپله دَ دوی نه او لیکن (تاسوته ئیے حکم دَ قتال درکړو) دَ دے دپاره چه ازمیښت اوکړی دَ بعضے ستاسو په بعضو سره او هغه کسان چه اوژلے شو په لار دَ اللّٰه تعالیٰ کښ نو هیڅرے نه ږے کاره کوی عملونه دَ هغوی (٤) ضرور کامیابوی دوی لره او خائسته کوی حال دَ دوی (٥) او

اُخروی اچول دی۔ او دَبربادئے نه بچ کول دی۔

[۳] په دے کښ دَکافرانو یوحال اودَ مؤمنانوهم یوحال ذکرکړے دے ﴿الْبَاطِلَ﴾ دَ دے نه مراد دلیل باطل دے لکه اتباع دَ هویٰ(خواهش) او اتباع دَ اباؤ او الْحقّ، دَ دے نه مراد دلیل حق دے قرآن او حدیث دا وحی ده دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه۔

[٤] دا تفریع ده په ماقبل دواړه قسمونوحالاتوباندے یعنی اے مؤمنانو هرکله چه ستاسو دغه اوچت حالات دی او ستاسو مقابله کښ کافران دی او دَ هغوی احوال دَ ذلت دی دَ دے وجے نه هغوی لره قتل کړئے دپاره دَ دے چه دا ذلیل اوصاف دَ دُنیا نه پورته شی ﴿فَضَرْبَ الرِّقَابِ﴾ اشاره ده چه مؤمن صرف دفع کؤونکے نه دے بلکه دے رفع کوؤنکے دے دَ دے وجے نه لقیتم ئیے نه دے وئیلے نودارنګ دَ قتل قصد کوؤنکو داسے اندام باندے ګذارکوئ چه مقتول دَ هغے په وجے سره زرمرکیدیشی او دغه اندام څټ دے چه دَ هغے په وهلو سره دَ مړے رګونه پریکړے شی ﴿فَشُدُّوا الْوَثَاقَ﴾ اشاره ده اګرچه مؤمن رافع دے (لرے کوؤنکے دَ کافرانو دے) لیکن مقصد په رفع کښ په خلقو باندے رعب اچول دی دَپاره دَدے چه بیا دَ مؤمن مخے له نه راځی دَ دے وجے دَ ډیر قتل نه روستوامر ئیے دَ قید کولو ورکړو ﴿فَاِمَّا مَنًّۢا بَعْدُ وَاِمَّا فِدَآءً، وَلَوْ يَشَآءُ اللّٰهُ﴾ په دے جمله کښ حکمت ذکرکوی دَ فرضیت دَ قتال چه هغه ابتداء کول دی په بندګانو باندے او داحکمت په ټولو فرائضوالهیو کښ دے۔

[٦،٥] په دے ایاتونو کښ درے حالات دَمؤمنانو شهیدانوذکرکوی دَپاره دَ ترغیب دَ قتال فی سبیل اللّٰه۔ روستودَ مرګ نه دَ هدایت معنیٰ جنت ته رسول دی ﴿عَرَّفَهَالَهُمْ﴾ دَ تعریف نه دے په معنیٰ دَ پیژند ګلئے سره دے یعنی هرجنتی ته به خپل منزل اوخودلے شی اوهغه به ئیے پیژنی۔یا دَ عَرَف نه دے په معنیٰ دَخوشبویه کولواوپه دے کښ نورتوجیهات هم مفسرینو لیکلی دی۔

يُدْخِلُهُمُ الْجَنَّةَ عَرَّفَهَا لَهُمْ ۝٦ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنْ تَنْصُرُوا اللّٰهَ يَنْصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ اَقْدَامَكُمْ ۝٧ وَ
الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فَتَعْسًا لَّهُمْ وَاَضَلَّ اَعْمَالَهُمْ ۝٨ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ كَرِهُوْا مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاَحْبَطَ اَعْمَالَهُمْ ۝٩
اَفَلَمْ يَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ فَيَنْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ دَمَّرَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ ۚ وَلِلْكٰفِرِيْنَ
اَمْثَالُهَا ۝١٠ ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ مَوْلَى الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَاَنَّ الْكٰفِرِيْنَ لَا مَوْلٰى لَهُمْ ۝١١ اِنَّ اللّٰهَ يُدْخِلُ الَّذِيْنَ ع
اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ؕ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا يَتَمَتَّعُوْنَ وَيَاْكُلُوْنَ كَمَا

داخلوی دوی لره جنت ته تعریف ئے کړیدے دَ هغه جنت دوی لره (٦) اے ایمانو والو که مدد او کړئے
دَ الله تعالیٰ نو مدد به او کړی ستاسو او پاخه به کړی قدمونه ستاسو (٧) او هر چه کافران دی نو
تباهی ده دوی لره او برباد کړی دی عملونه دَ دوی (٨) دا دَ دے وجے نه چه یقیناً دوی بدګنړی هغه
چه نازل کړیدے الله نو بے فائدے کړیدی عملونه دَ دوی (٩) ایا دوی نه ګرځی په ملك کښ نو چه
او ګوری چه څه رنګ وؤ اخری انجام دَ هغه خلقو چه دَ دوی نه مخکښ تیر شویدی تباهی راوستله
الله تعالیٰ په هغوی باندے او کافرانو لره دَ دے پشان عذابونه دی (١٠) دا دَ دے وجے نه چه یقیناً الله
تعالیٰ مددګار (دوست) دَ مؤمنانو دے او یقیناً کافران چه دی نیشته مددګار دَ هغوی (١١) یقیناً الله
تعالیٰ به داخلوی هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے او عملونه ئے کړیدی په سنت برابر جنتونو ته چه
بهیږی به لاندے دَ هغے نه ولے او کافران خو مزے اخلی (دَ دُنیا) او خوراك کوی لکه

[٧] روستودَ امردَ قتال نه سرهٔ دَ ذکر دَحالاتو دَ فریقینونه تشجیع ورکوی په جهاد فی سبیل الله باندے
او دوه حالتونه دَ مؤمنانوذکرکوی داحالتونه دوه وعدے دی دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه په شرط دَ جهاد
کولوسره۔ ﴿اِنْ تَنْصُرُوا اللّٰهَ﴾ نصرت په اصل کښ دِله کښ داخلیدل او دِله کولوته وئیلے کیږی او هغے
ته همکاری هم وئیلے شی یعنی الله تعالیٰ دین رالیږلے دے او نبی ﷺ ئے رالیږلے دے او دین چلوی دا کار دَ
الله تعالیٰ دے نوپه دے کښ (دین چلولو کښ) ملګرتیا کولوته نصرت وئیلے کیږی۔

[٨] دا یو قسم نصرت الٰهیه دے دَ مؤمنانو سره او دَ کافرانو دوه حالتونه ذکرکوی دَ تخویف دَپاره۔
﴿وَاَضَلَّ اَعْمَالَهُمْ﴾ مراد دَ اعمالونه دَ دوی کیدونه اومکرونه دی په مخالفت دَ ایمان والوکښ۔

[٩] په دے کښ دوه حالات دَکافرانوذکرکوی ﴿فَاَحْبَطَ اَعْمَالَهُمْ﴾ دَ دے نه مراد عملونه دَ کفر
اوشرك او نور قبائح فواحش دی۔ دا ایت دلیل دے چه بدګنړل او نفرت کول دَ قرآن او سنت او دَ هغے دَ
احکامونه سبب ښکاره دے دَپاره دَ هلاکت او دَ ذلت اودَ بے کاره کیدلو دَ عملونو او دَ دے نه پیدا کیږی
بدکاری فحاشی اونور بداعمال هم۔

[١٠] دا تخویف دُنیوی دے اودَکافرانویوحال ذکرکوی او مثال دَ تعس(هلاکت) ذکرکوی په سبب
دَ کراهیت دَ ما انزل الله سره ﴿اَمْثَالُهَا﴾ هَاضمیرعاقبت ته راجع دے یعنی په تیرشوی اقوام مکذبه باندے
چه کوم عذابونه راغلی وؤنودَ هغے پشان به په روستنوباندے هم راځی۔

[١١] دا سبب دَ ماقبل دے اودَ مؤمنانویوحال اودَکافرانویوحال ذکرکوی ﴿مَوْلَى الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا﴾

تَاْكُلُ الْاَنْعَامُ وَالنَّارُ مَثْوًى لَّهُمْ ﴿۱۲﴾ وَكَاَيِّنْ مِّنْ قَرْيَةٍ هِيَ اَشَدُّ قُوَّةً مِّنْ قَرْيَتِكَ الَّتِيْٓ اَخْرَجَتْكَ ۚ
اَهْلَكْنٰهُمْ فَلَا نَاصِرَ لَهُمْ ﴿۱۳﴾ اَفَمَنْ كَانَ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّهٖ كَمَنْ زُيِّنَ لَهٗ سُوْٓءُ عَمَلِهٖ وَاتَّبَعُوْٓا اَهْوَآءَهُمْ ﴿۱۴﴾
مَثَلُ الْجَنَّةِ الَّتِيْ وُعِدَ الْمُتَّقُوْنَ ۭ فِيْهَآ اَنْهٰرٌ مِّنْ مَّآءٍ غَيْرِ اٰسِنٍ ۚ وَاَنْهٰرٌ مِّنْ لَّبَنٍ لَّمْ يَتَغَيَّرْ طَعْمُهٗ ۚ وَ
اَنْهٰرٌ مِّنْ خَمْرٍ لَّذَّةٍ لِّلشّٰرِبِيْنَ ڬ وَاَنْهٰرٌ مِّنْ عَسَلٍ مُّصَفًّى ۭ وَلَهُمْ فِيْهَا مِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ وَمَغْفِرَةٌ
مِّنْ رَّبِّهِمْ ۭ كَمَنْ هُوَ خَالِدٌ فِي النَّارِ وَسُقُوْا مَآءً حَمِيْمًا فَقَطَّعَ اَمْعَآءَهُمْ ﴿۱۵﴾ وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّسْتَمِعُ

چه خوراك كوی ځاروی او اورځائے دَ دیره كیدلو دَ دوی دے (۱۲) او ډیر كلی دی چه هغه مضبوط دی په قوت كښ ستا دَ كلی نه هغه چه ویستلے ئیے ته هلاك كړیدی مونږ هغوی نو نه وؤ مددگار دوی لره (۱۳) ایا څوك چه دی په ښكاره دلیل باندے دَ رب دَ طرف نه دے پشان دَ هغه چادے چه ډولی كړے شویوی دهٔ لره بد عمل دَ دهٔ او تابعداری كړیوی دَ خواهشاتو خپلو (۱٤) صفت دَ هغه جنت چه وعده ئے كړے شویده دَ متقیانو سره (دادے) په هغے كښ ولے دی دَ اوبو نه چه نه به گنده كیږی او ولے دَ پیونه چه نه به بدلیږی خوند دَ هغے او ولے دی دَ شرابو چه مزه ورگوی څگوڼكو لره او ولے دی دَ گڼین چه صفا كړے شویدے او دوی لره په هغے كښ دَ هر قسم میوه جاتونه دی او بخښش دے دَ دوی دَ رب دَ طرف نه (ایاداسے كس) پشان دَ هغه چا دے چه همیشه وی په اور كښ او څكولے كیږی په دوی باندے اوبه خوټكیدلے نو ټوټے ټوټے به كړی كولمے دَ دوی (۱۵) او بعضِ خلق داسے دی چه غوږ كیدی

دَ قشیری نه نقل دے چه دا ایت كریمه دَ ډیر امید (دَخوشحالئے) ایت دے ځكه چه اللّٰه تعالیٰ خپل ولایت په عبادت كوڼكو، وظیفو اوذكر كوڼكو اوریاضت كوڼكو پورے نه دے خاص كړے بلكه صرف مؤمنان ئیے ذكر كړیدی او دَ دے ایت موافق اعلان رسول اللّٰه ﷺ په اُحد كښ كړے وؤ، لنا المولیٰ ولامولیٰ لكم، په جواب دَ قول دَ كافرانو كښ، لنا العزیٰ ولاعزیٰ لكم۔

[۱۲] روستودَ ذكردَ حالاتودَ فریقینونه بشارت ذكر كوی یوفریق ته اوتخویف دویم فریق لره اودَمؤمنانویوحال اودَكافرانو درے حالتونه ئیے ذكر كړی دی﴿كَمَا تَاْكُلُ الْاَنْعَامُ﴾تشبیه په ډیرو خیزونو كښ ده په تلذذكښ، په فرق نه كولودَحرامواوحلالو كښ، په اول كښ بسم اللّٰه نه وئیل اوپه اخركښ حمد اوشكرنه كول، خوراك مقصدگنړل اودارنگ په ولاړه باندے خوړل۔

[۱۳] دا تسلّی ده نبی ﷺ ته او تخویف دُنیوی دے منكرینوته۔

[۱٤] په دے كښ دَ تسلّیٔ اودَ تخویف(چه مخكښ ذكرشول) اسباب ذكر كوی اوتقابل دَ فریقینودے چه دَ مؤمنانویوحال ذكر كوی اودَكافرانو دوه حالات ذكر كوی ﴿عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّهٖ﴾ اشاره ده چه مؤمنان دَ تقلید مذموم(تقلیدجامد) نه بچ وی بلكه په دلیل پسے روان وی ﴿كَمَنْ زُيِّنَ لَهٗ سُوْٓءُ عَمَلِهٖ﴾ یعنی شرك اوبدعات ورته ثواب معلومیږی ﴿وَاتَّبَعُوْٓا اَهْوَآءَهُمْ﴾ یعنی دَ عمل كولو دپاره دلیل دَ وحی نه لری او خواهش(هویٰ) خودلیل نه دے۔

[۱۵] ایت نه مخكښ بشارت په جنت سره ذكروؤاوس دَ هغے تفصیل بیانوی او تقابل دے دَ فریقینو په

اِلَيْكَ ۚ حَتّٰٓى اِذَا خَرَجُوْا مِنْ عِنْدِكَ قَالُوْا لِلَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ مَاذَا قَالَ اٰنِفًا ؕ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ طَبَعَ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ وَاتَّبَعُوْٓا اَهْوَآءَهُمْ ﴿۱۶﴾ وَالَّذِيْنَ اهْتَدَوْا زَادَهُمْ هُدًى وَّاٰتٰىهُمْ تَقْوٰىهُمْ ﴿۱۷﴾

تاته (په جاسوسئ سره) تردے پورے چه هر کله اوځی ستا دَ خوانه وائي هغه کسانوته چه علم ورکړے شویدے دهٔ څه اُوئیل اوس دا هغه خلق دی چه مهر وهلے دے اللّٰه تعالیٰ په زړونو دَ دوی باندے او تابعداری کوی دوی دَ خواهشاتو خپلو (۱۶) او هغه کسان چه هدایت والادی زیاتی کوی اللّٰه تعالیٰ دوی لره هدایت او ورکوی دوی ته (توفیق) دَ تقویٰ (۱۷)

جزاء کښ ﴿فِيْهَآ اَنْهٰرٌ مِّنْ مَّآءٍ غَيْرِ اٰسِنٍ﴾ دا صرف تفصیل دَ انواعو دَ مشروباتو ذکر کوی هرکله چه اول په مشروباتو کښ محبوب اوبه دی نو هغه ئے اول ذکر کړے ﴿غَيْرِ اٰسِنٍ﴾ په خلاف دَ اوبودَ دُنیا چه خوند ئے کله دَ اصل نه بدل وی او کله په عارض سره بدل شی لکه په یوځائے ډیرے اسارے شی یا لهه پکښ پیدا شی ﴿وَاَنْهٰرٌ مِّنْ لَّبَنٍ﴾ دَ اوبونه روستو زیات نزدے هرطبیعت ته پئے (شوده) ځکل دی نودویم ئے ذکر دَ ډیو او کړو ﴿لَّمْ يَتَغَيَّرْ طَعْمُهٗ﴾ په خلاف دَ پیودَ دُنیا چه کله دَ غولانزے نه راؤځی او خوندئے خراب وی یا ډیروخت پرے تیرشی نوخراب شی ﴿وَاَنْهٰرٌ مِّنْ خَمْرٍ﴾ هرکله چه عام طبیعتونه دَ میوؤ او غلونه ویستلے شوے رس غواړی چه دَ هغے نه صورت دَ خمر (شرابو) جوړیږی نودریم ذکرئیے دَ هغے او کړو ﴿لَّذَّةٍ لِّلشّٰرِبِيْنَ﴾ یعنی دَ هغے رنګ یا خوندیاعاقبت به داسے نه وی چه ځکوونکی دَ هغے نه نفرت او کړی اوپه هغے کښ به ذاتی لذت پروت وی په خلاف دَ خمرد دُنیا نه چه دَ هغے خوند اورنګ اوعاقبت هم کریه وی لیکن په خارجی نوروخیزونو سره ئے پکښ عارضی لذت پیدا کړے وی ﴿وَاَنْهٰرٌ مِّنْ عَسَلٍ﴾ هرکله چه عام طبیعتونه دَ مشروباتو خوګوالے غواړی اودَ عام خوګوخیزونوخوګوالے عارضی دے دَدے وجے اکثراوقاتو کښ هغه مضرهم کیدے شی اودَعسل (ګبین) خوګوالے اصلی ذاتی دے اوهغه شفاء اوعلاج دے بله داچه عسل دَمختلفوبوټواوګلونونه راویستلے رس وی نومناسبت ئے خمروسره شته دے ﴿وَلَهُمْ فِيْهَا مِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ﴾ مخکښ ذکرشو مشروبات اودا اجمالی ذکردے دَ مطعوماتو ﴿وَمَغْفِرَةٌ مِّنْ رَّبِّهِمْ﴾ اشاره ده چه په دُنیا کښ کله میزبان (کوربه) په زړه کښ دَ میلمنونه خفه وی لیکن په جنت کښ اللّٰه تعالیٰ به دَ ټولونه رضاوی اودَ دے وجے نه ګناهونه ئے ورته بخلی دی ﴿وَسُقُوْا مَآءً حَمِيْمًا﴾ داپه مقابله دَ مشروباتو دَ جنت کښ دے دا داسے اوبه دی چه مخونوته ئے نزدے کړی نومخ به ئے رویت پریت شی اودَ مخ څرمن به په هغے لوخی دَ اوبو کښ پریوځی لکه سورهٔ کهف (۲۹) کښ تیرشویدی بیا به ورله د ننه کولمے ټکړے ټکړے کړی اوپه حدیث کښ وارد دی چه دا ټکړے به دَ دوی نه لاندے اوځی (اللهم اجرنامن النار)۔

[۱۶] دا تقسیم دَکافرانوته اشاره ده چه بعضے پکښ داسے عمل کوی اودا عمل دَ منافق دے ﴿مَاذَا قَالَ اٰنِفًا﴾ یعنی دَدوی ټوجه نه وی کلام دَ اللّٰه اودَ رسول ته په غفلت کښ وی نوپوهه نه لری او مراد دَ دے نه هغه کلام دے چه دوی واوریدلو یا مراد دَ دے نه هغه کلام دے چه دَ دوی دَ راوتلونه روستو وؤدوی دَ هغے تپوس کوی په دے خیال باندے چه زمونږپه غیب کښ ئے څه وئیلی دی۔ یا دا چه غفلت کښ نه وی لیکن په طریقه دَ استهزاء او دَ نفرت سره وائي۔ وائي ځه دے نبی داځه بے فائدے خبرے اوکړے۔

فَهَلْ يَنْظُرُوْنَ اِلَّا السَّاعَةَ اَنْ تَاْتِيَهُمْ بَغْتَةً ۚ فَقَدْ جَآءَ اَشْرَاطُهَا ۚ فَاَنّٰى لَهُمْ اِذَا جَآءَتْهُمْ
ذِكْرٰىهُمْ ﴿۱۸﴾ فَاعْلَمْ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاسْتَغْفِرْ لِذَنْۢبِكَ وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ ؕ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ
مُتَقَلَّبَكُمْ وَمَثْوٰىكُمْ ﴿۱۹﴾ وَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَوْلَا نُزِّلَتْ سُوْرَةٌ ۚ فَاِذَآ اُنْزِلَتْ سُوْرَةٌ مُّحْكَمَةٌ
وَّذُكِرَ فِيْهَا الْقِتَالُ ۙ رَاَيْتَ الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ يَّنْظُرُوْنَ اِلَيْكَ نَظَرَ الْمَغْشِيِّ عَلَيْهِ مِنَ

نو انتظار نه کوی دامنکرین مګر دَ قیامت چه رابشی دوی ته ناسابه نو یقیناً راغلی دی نخښے دَ هغے نو دَ کوم ځائے نه به وی دوی لره کله چه قیامت راشی نصیحت اخستل دَ دوی (۱۸) پس پوهه شه چه یقیناً نیشته حقدار دَ بندګے سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه او بخښه غواړه د پاره دَ بوج خپل او د پاره دَ مؤمنانو سړو او دَ زنانو مؤمنو د پاره ، او اللّٰه تعالیٰ پیژنی ستاسو دَ ګرځیدلو او دَ دیره کیدلو ځایونه (۱۹) او وائي هغه خلق چه دعوے دَ ایمان کوی ولے نشی نازلیدلے یو سورت نو کوم وخت چه نازل کړیشی سورت پوخ مضمون والا او ذکر کړیشی په هغے کښ حکم دَ قتال وینے ته هغه کسان چه په زړونو دَ هغوی کښ مرض دے ګوری تاته پشان دَ نظر کولو دَ هغه چاچه بیهوشی وربانديے راغلے وی دَ

[۱۷] دا په مقابله دَ مخکښ کښ دَ مؤمنانودوه صفات ذکرکوی ﴿زَادَهُمْ﴾ ایمان والا چه قرآن آوری نواللّٰه تعالیٰ دوی لره په سبب دَ هغے سره ایمان زیاتوی۔

[۱۸] په دے کښ تخویف اُخروی دے اوذکردَیوحال دَکافرانودے ﴿بَغْتَةً﴾ هغه حال دے چه تاریخ معین ئے معلوم نه وی نو انسان ورته تیارے نه وی کړے ۔ اوناسابه راشی اګرچه نښے ئے معلومے وی ﴿فَقَدْ جَآءَ اَشْرَاطُهَا﴾ شرط نښے دَ زخم ته وئیلے کیږی کله چه جوړشی دلته مراد دَ هغے نه دَ قیامت واړه علامات دی چه اول په هغے کښ دَ نبی ﷺ بعثت دے لکه چه صحیح حدیث کښ وارد دی۔(بُعِثْتُ اَنَا وَالسَّاعَةُ كَهَاتَيْنِ)

[۱۹] په دے کښ دعویٰ دَ توحید ده چه هغه مقصد دَ قتال دے ربط دَمخکښ سره دا دے چه دَ قیامت نزدے کیدل ئے ذکر کړل نو اوس دَ قیامت دَ عذاب نه دَ بچ کیدلودپاره طریقه کارذکرکوی ﴿فَاعْلَمْ﴾ پیغمبرﷺ ته خطاب دے او مراد ترینه امت دے یا مراد دَ دے نه په دے علم باندے کلك پاتے کیدل دی۔ او علم دَ دے کلمے شامل دے علم ته په الفاظو دَ هغے باندے او په معنیٰ دَ هغے باندے او په هغے باندے عقیده ساتل او په مقتضیاتو دَ هغے باندے هم پوهه اوعمل کول او دا دلیل دے چه علم دَ توحید اول فرض دے اودارنګ دا دلیل دے چه علم دَ قول اوعمل نه مخکښ دے ﴿وَاسْتَغْفِرْ لِذَنْۢبِكَ﴾ استغفار قول دَ ژبے دے اوعمل هم دے اشاره ده چه دَ علم سره استغفارپه کثرت سره ضروری دے ﴿لِذَنْۢبِكَ﴾ مراد دَ ذنب نه ګناه ندے بلکه بوج دَ زړه اوخفګان دے په سبب دَ شرك دَمشرکانواومخالفت دَ مخالفینو یعنی استغفراللّٰه وایه دَپاره دَ زائله کولودَخفګان دَزړه نه اودلیل په دے باندے حدیث دے۔ انه ليغان على قلبي فاستغفر الله سبعين مرة اومأته مرة، (یقیناً زما په زړه باندے بوج اوخفګان رائځی نوځه اویا یاسل کرته استغفار وایم) یا مراد دَ ذنب نه افضل کارکله کله پریخودل دی اګرچه هغه ګناه نه دے لیکن دَ مقربینو دَ شان سره مناسب نه دے دریم جواب قرطبی ذکرکړے دے چه استغفار غواړه دپاره دَ بچ کیدلو دَ ګناه کولو نه ﴿وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مُتَقَلَّبَكُمْ وَمَثْوٰىكُمْ﴾ دا دواړه الفاظ ډیرومعانوته شامل دی (۱)ګرځیدل دَ ورځے اوځائے دَ آرام کولودَ شپے (۲) عملونه ستاسو په

الْمَوْتِ ط فَاَوْلٰى لَهُمْ ﴿۲۰﴾ طَاعَةٌ وَّ قَوْلٌ مَّعْرُوْفٌ ت فَاِذَا عَزَمَ الْاَمْرُ ت فَلَوْ صَدَقُوا اللّٰهَ لَكَانَ خَيْرًا
لَّهُمْ ﴿۲۱﴾ فَهَلْ عَسَيْتُمْ اِنْ تَوَلَّيْتُمْ اَنْ تُفْسِدُوْا فِي الْاَرْضِ وَ تُقَطِّعُوْٓا اَرْحَامَكُمْ ﴿۲۲﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ
لَعَنَهُمُ اللّٰهُ فَاَصَمَّهُمْ وَ اَعْمٰٓى اَبْصَارَهُمْ ﴿۲۳﴾ اَفَلَا يَتَدَبَّرُوْنَ الْقُرْاٰنَ اَمْ عَلٰى قُلُوْبٍ اَقْفَالُهَا ﴿۲۴﴾ اِنَّ

مرګ دَ وجې نه نو تباهي ده دوی لره (۲۰)(پکاردہ) دوی لره تابعداری کول او وینا نیکه نو کوم وخت چه پوخ شو حکم دَ قتال نو که چرې رشتینی کړې وو دوی لوظ دَ اللّٰه تعالیٰ ضرور به غوره وؤ دوی لره (۲۱) نو یقیناً نزدې ئې تاسو که چرې مخ واړوئے چه فساد به او کړئے په ملك کښ او پرې به کړئے خپلولے ستاسو (۲۲) دا هغه خلق دی چه لعنت کړیدے اللّٰه تعالیٰ په دوی باندے نو کانړه ئې کړل دوی او رندے ئې کړلے سترګے دَ دوی (۲۳) ایا دوی سوچ نه کوی په قرآن کښ بلکه په زړونو دَ دوی باندے جرندے دَ هغے دی (۲۴) یقیناً

دنیا کښ اومرجع په قبراوپه قیامت کښ (۳)کرځیدل په سفرکښ اواقامت کول په یوځائے کښ یعنی ستاسو په ټولوحالاتوباندے اللّٰه تعالیٰ عالم دے۔

[۲۰] دَ دے ایت نه دویم باب دے ترآخر دَ سورۃ پورے په دیکښ زواجر دَ منافقینو دی په ذکرد اتلس قبائحو دَ هغوی سره اوترغیب دے قتال ته په (۳۵،۳۳) کښ اوترغیب دے انفاق ته سرهٔ دَ تزهید فی الدنیا نه۔ په دے (۲۰)کښ زجردے منافقینوته په ذکرد ځلورو حالاتودَ هغوی سره ﴿الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا﴾ دا قول دَ مخلصانومؤمنانودے دَپاره دَ شوق دَ جهاد اودَ حرص په وحی آوریدلو باندے دا طلب کوی یا مراد دَ دوی نه منافقان دی چه طلب دَ نزول دَ سورت په طریقه دَ منافقت سره کوی لکه سورۃ نساء (۷۷)کښ ذکردی۔

[۲۱] ﴿خَيْرًا لَّهُمْ﴾ یعنی که چرے دوی دَ جهاد نه ویره نه کولے بلکه طاعت ئے کړے وے نو ډیر خیربه وؤ او مراد طاعت نه طاعت دَ اللّٰه تعالیٰ او دَ رسول دے عموماً اوخاص په معامله دَ جهاد کښ۔

[۲۲] مراد دَ تولیتم نه اعراض دَکتاب اللّٰه تعالیٰ اودَ جهادنه دے دا قول دَقتاده دے نوپه دے ایت کښ اشاره ده ناکاره نتائجوته دَاعراض دَکتاب اللّٰه اودَجهادنه یعنی که چرے تاسودَ قرآن نه مخ واړوئے اوجهاد پریږدئے نو په ملك کښ به ګناهونه اوبغاوت اوناحق قتلونه ډیرشی اودا فساد دے اوخپلولے به ختم شی یعنی په خپلوانوباندے به ظلم شروع شی په یوبل باندے به لوټ مارکیږی پشان دَجاهلیت۔

فائده: ﴿اَرْحَامَكُمْ﴾ قرطبی وئیلی دی چه ارحام دوه قسمونه دی اول عام دویم خاص دے عام رحم یعنی تعلق دَ دین اسلام دے اودا دَ ټولو مسلمانانو حق دے او خاص خوصرف دَ نسبی خپلوانوحق دے۔

[۲۳،۲۴] دا نورصفات دَ منافقانودی په دواړوآیاتونوکښ ئې پنځه ذکرکړی دی۔ اوپه دے کښ اشاره ده چه مقصد دَ قرآن صرف تلاوت دَ الفاظونه دے بلکه تدبراوسوچ کول دی په معانی او مقاصدو او حکمتونو دَ هغه کښ او دارنګ سورۃ نساء(۸۲)کښ تیرشویدی۔ یعنی دَتدبرنه کولوحقیقی وجه دا ده چه دَ دوی په زړونوباندے جرندے وهلے شویدی لکه جرنده (تاله) چه دروازه باندے اُوهلے شی نودننه هیڅ خیزنه شی داخلیدلے نو دارنګ دَد وی زړونوته دننه حق خبره نه داخلیږی۔

اَلَّذِيْنَ ارْتَدُّوْا عَلٰٓى اَدْبَارِهِمْ مِّنْۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْهُدَى ۙ الشَّيْطٰنُ سَوَّلَ لَهُمْ وَاَمْلٰى لَهُمْ ﴿۲۵﴾
ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَالُوْا لِلَّذِيْنَ كَرِهُوْا مَا نَزَّلَ اللّٰهُ سَنُطِيْعُكُمْ فِيْ بَعْضِ الْاَمْرِ ۚ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ اِسْرَارَهُمْ ﴿۲۶﴾
فَكَيْفَ اِذَا تَوَفَّتْهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ يَضْرِبُوْنَ وُجُوْهَهُمْ وَاَدْبَارَهُمْ ﴿۲۷﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمُ اتَّبَعُوْا مَآ اَسْخَطَ اللّٰهَ
وَكَرِهُوْا رِضْوَانَهٗ فَاَحْبَطَ اَعْمَالَهُمْ ﴿۲۸﴾ اَمْ حَسِبَ الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ اَنْ لَّنْ يُّخْرِجَ اللّٰهُ ع ۴

هغه کسان چه واوړیدل (دَ ایمان نه) په شاګانو خپلو باندے روستو دَ دے نه چه ښه ښکاره شو دوی ته هدایت شیطان ډولی کړیدی دوی ته (عملونه دَ دوی) او مهلت ئے ورکړیدے دوی ته (۲۵) دا دَ دے وجے نه چه یقیناً دوی وائي هغه کسانو ته چه بدګنړی هغه چه نازل کړیدے الله تعالیٰ مونږ به ستاسو خبره اومنو په بعضِ کارونو کښ او الله تعالیٰ پوهیږی دَ دوی په پټو خبرو کولو باندے (۲۶) نو څه رنګ حال به وی هغه وخت چه سا اخلی دَ دوی نه ملائك دَ مرګ وهی به مخونه دَ دوی اوشاګانے دَ دوی (۲۷) دا پدے وجه چه یقیناً دوی تابعداری کړیده دَ هغه کار چه خفه کړیدے الله تعالیٰ او بد ګڼړی دوی رضا دَ الله تعالیٰ نو بے فائدے کړیدی عملونه دَ دوی (۲۸) ایا ګمان کوی هغه کسان چه په زړونو دَ دوی کښ مرض (کینه) دے چه را ښکاره به نه کړی الله تعالیٰ

[۲۵] دا هم زجردے منافقانوته او ارتداد دَ هغوی دا دے چه دَ قرآن نه فرضیت دَ قتال ورته معلوم شواو بیائے هم اعراض اوکړو اوسبب دَ ارتداد ئے ذکرکړوپه دے ایت کښ دَ منافقانودرے حالات ذکرشول ﴿سَوَّلَ﴾ کښ اشاره ده اعمالودَ شرك اوبدعاتوته چه هغوی ته دوی ګناهونه نه وائي دَ دے وجے نه توبه نه اوباسی او ﴿اَمْلٰى﴾ کښ اشاره ده انهماك دَ دوی په خواهشاتو اوشهواتو نفسیاتو کښ چه توبے کولونه غافل دی۔

[۲۶] په دے ایت کښ هم زجردے منافقانوته اوسبب دَتسویل الشیطان ذکرکوی چه هغه دَ بے دینوخلقوسره په بے دینئے کښ تعاون کول دی یا دَتعاون کولو وعده کول دی ﴿بَعْضِ الْاَمْرِ﴾ مرادترینه مخالفت دَ نبی ﷺ اوخلقولره دَهغه دَطاعت نه منع کول اودَجهادنه منع کول دی اظهاردَشرك ترینه مراد ندے۔

[۲۷] دا تخویف دَ حال دَ زنکدن دے۔ اوحرف دَ فادلیل دے چه دا عذاب به په سبب دَ مخکښے ذکرشوی صفاتواواحوالو سره وی۔ تخصیص دَ مخونواوشاګانوپه دے وجے سره دے چه په وخت دَ اعلان قتال کښ دَ دوی په مخونوباندے آثارَ خفګان ښکاره کیده اودغه مخ به ئے بچ کووهسے نه چه په قتال کښ په هغے باندے ګذار اولګی او شابه ئے ګرځوله په وخت دَ تختیدلو کښ۔

[۲۸] په دے ایت کښ دَ دوی درے حالتونه ذکرکوی اوهغه اسباب دی دَ تیرشوی عذاب یعنی وهل دَ مخونوپه سبب دَاتباع دَما اسخط سره دی اووهل دَشاګانوپه سبب دَکراهت دَ رضا دَالله تعالیٰ دی ﴿اتَّبَعُوْا مَآ اَسْخَطَ اللّٰهَ﴾ سبب دَ غضب دَالله تعالیٰ کفرکول دی اودَ هغے سره خِداع اوفساد اوپه مؤمنانوپورے استهزاء ئے یوځائے کړیدی ﴿وَكَرِهُوْا رِضْوَانَهٗ﴾ سبب دَ رضا دَ الله تعالیٰ ایمان، توحید اخلاص اواتباع دَ قرآن او سنت ده هغه دوی بدګنړی۔

اَضْغَانَهُمْ ﴿۲۹﴾ وَلَوْ نَشَآءُ لَاَرَيْنٰكَهُمْ فَلَعَرَفْتَهُمْ بِسِيْمٰهُمْ ؕ وَلَتَعْرِفَنَّهُمْ فِيْ لَحْنِ الْقَوْلِ ؕ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ
اَعْمَالَكُمْ ﴿۳۰﴾ وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ حَتّٰى نَعْلَمَ الْمُجٰهِدِيْنَ مِنْكُمْ وَالصّٰبِرِيْنَ ۙ وَنَبْلُوَاَخْبَارَكُمْ ﴿۳۱﴾ اِنَّ
الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَشَآقُّوا الرَّسُوْلَ مِنْۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْهُدٰى ۙ لَنْ

کینے دَ دوی (دَ مؤمنانو سره) (۲۹) او که مونږ او غواړو نو او به خایو تاته دوی نو اوبه پیژنے دوی لره په نخښو دَ دوی سره او ضرورته خو اوس پیژنے دوی لره په چالاکو خبرو کښ او اللّٰه تعالیٰ پوهه دے په عملونو ستاسو (۳۰) او ضرور ازمیښت کوؤ مونږ په تاسو باندے تردے پورے چه جدا کړو مونږ جهاد کوؤنکی ستاسونه او صبر کوؤنکی او ښکاره به کړو مونږ (حقیقت) دَخبرونو ستاسو (۳۱) یقیناً هغه کسان چه کفر ئے کړیدے او منع کوی خلقو لره دَ لار دَ اللّٰه تعالیٰ نه او خلاف کوی دَ رسول نه روستو دَ دے نه چه ښه ښکاره شو دوی ته هدایت هیڅرے

[۲۹] په دے کښ زجردے اوذکردَ یوحالت دَمنافقانودے اوپه دے سره دَ منافقانو ګیله ختموی۔ دوی وائې چه زمونږ قبائح ښکاره نه دی پکار۔نواللّٰه تعالیٰ اوفرمائیل چه دا ګمان دَدوی غلط دے چه مونږ به دَ دوی قبائح نه ښکاره کوؤ۔

[۳۰] هرکله چه دَمنافقینوبعضے علامات اوصفات ذکرشول اوټول ئیے بیان نه کړل دَ دے وجه ذکرکوی په دے ایت کښ ﴿لَاَرَيْنٰكَهُمْ﴾ مراد دَ دے نه خودل دَ ټولوعلاماتودی ﴿وَلَتَعْرِفَنَّهُمْ فِيْ لَحْنِ الْقَوْلِ﴾ دا ذکردے دَیوعلامت خاصه یعنی په وخت دَ لحن القول کښ به ئیے ضرور پیژنے۔ سوال: دا جمله دلالت کوی چه نبی ﷺ ټول منافقان پیژندل اودَ ایت دَ سورة توبه(۱۰۱) نه صراحتاً معلومیږی چه هغه ټول نه پیژندل؟ جواب: دَ دے جواب ابن کثیرسورة توبه کښ لیکلے دے دَ هغے حاصل دادے چه دا دَ باب دَ توسم نه دے (یعنی په نخه سره پیژندل) او دَ دے نه دا نه لازمیږی چه ټول منافقان په تعیین اوپه تفسیرسره پیژنی حاصل دَ جواب دا دے چه په لحن القول سره پیژندلے شی لیکن هریو منافق په هروخت کښ لحن القول نه کوؤ دَ دے وجے نه په ټولو باندے علم حاصل نه شو۔ سوال: حدیث دَمسند احمد کښ دی چه نبی ﷺ دَ جُمعے په ورځ یویو منافق ته آواز ورکړو اودَ مسجد نه ئیے اوشړلواوشپږدیرش کسانونومونه ئیے واخستل نو معلومه شوه چه ټول منافقان ئیے اوپیژندل؟ جواب: دَ دے نه معلومه شوه چه نبی ﷺ بعضِ منافقان پیژندلی وو ټول ئیے نه وو پیژندلی ﴿وَاللّٰهُ يَعْلَمُ اَعْمَالَكُمْ﴾ یعنی ستاسو په ټولو عملونو ظاهری اوباطنی باندے صرف اللّٰه تعالیٰ علم لری دا دلیل دے چه پیغمبر هم په ټولو اعمالو دَ مخلوق باندے علم نه لری۔

[۳۱] مخکښ ایت کښ دَ معرفت دَ منافقانودَپاره یوعلامت ذکرکړے وؤ په دے ایت کښ دَ دے معرفت او تمیز دپاره بله طریقه ذکرکوی چه هغه ابتلاء ده په مصیبتونوسره یا په عبادتونو او په فرضیت دَ جهاد سره او ابتلاء دَ اللّٰه تعالیٰ دَ حقیقت ښکاره کولودَپاره وی دَ دے وجے حتّٰی نَعْلَمَ، راوړومراد دَ علم نه علم دَاظهار او دَ تمیز دے ﴿وَنَبْلُوَا اَخْبَارَكُمْ﴾ اخبارپه معنیٰ دَ باطنی حالاتو دے چه اخلاص اونفاق وغیره دی یعنی جهاد اوصبرظاهری اعمال دی اواخلاص، نفاق باطنی اعمال دی دا ټول په ابتلاء اتو سره ښکاره کیږی۔

يَّضُرُّوا اللّٰهَ شَيْـًٔا ؕ وَسَيُحْبِطُ اَعْمَالَهُمْ ﴿۳۲﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ وَلَا تُبْطِلُوْۤا اَعْمَالَكُمْ ﴿۳۳﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ثُمَّ مَاتُوْا وَهُمْ كُفَّارٌ فَلَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لَهُمْ ﴿۳۴﴾ فَلَا تَهِنُوْا وَتَدْعُوْۤا اِلَى السَّلْمِ ۖۚ وَاَنْتُمُ الْاَعْلَوْنَ ۚ وَاللّٰهُ مَعَكُمْ وَلَنْ يَّتِرَكُمْ اَعْمَالَكُمْ ﴿۳۵﴾

ضرر نه شی ورکولے اللّٰه تعالیٰ ته هیڅ قسم او ضرور بے فائدے به کړی عملونه دَ دوی (۳۲) اے ایمان والو اطاعت کوئے دَاللّٰه تعالیٰ او اطاعت کوئے دَرسول او مه بربادوئے عملونه خپل (په مخالفت دَ دے دواړو) (۳۳) یقیناً هغه کسان چه کفرئے کړیدے او منع کول کوی دَ لارے دَ اللّٰه تعالیٰ نه بیا مړه شی پداسے حال کښ چه کافروی نو هیڅرے بخنه نه کوی دوی ته اللّٰه تعالیٰ (۳٤) نو کمزوری مه ښکاره کوئے او بلنه مه کوئے صلح کولوته (دَ وجے دَ سُستیٔ نه) او حال داڅه تاسو اوچت ئے او اللّٰه تعالیٰ ستاسو ملګرے دے او هیڅرے نه کمه وی ثواب دَ عملونو ستاسو (۳۵)

[۳۲] په دے ایت کښ زجردے منافقانواوټولوکافرانوته اودَدوی پنځه حالات ذکرکوی ﴿وَشَآقُّوا الرَّسُوْلَ﴾ یعنی مخالفت دَ رسول اودَ سنت دَ رسول په ضد اوپه عناد سره کوی په داسے طریقے سره چه خپله لار دَنبی دَ لارے نه په بل جانب اوګرځوی ﴿وَسَيُحْبِطُ اَعْمَالَهُمْ﴾ مراد دَ دے نه هغه کیدونه اومکرونه دی چه په دُشمنیٔ دَ رسول اللّٰه ﷺ کښ دوی کوی۔

[۳۳] هرکله چه دَمنافقانواحوال ئے ذکرکړل نو اوس مؤمنان منع کوی دَ صفاتودَ منافقانونه اوترغیب ورکوی اطاعت دَ اللّٰه تعالیٰ اودَ رسول دَهغه ته ﴿وَلَا تُبْطِلُوْۤا اَعْمَالَكُمْ﴾ مراد دَدے نه تحذیر دے دَصفاتودَمنافقانونه چه مخکښ بیان کړے شول چه هغه سبب دَ بطلان دَ عملونو دے ۔بیا داجمله عامه ده هر ابطال ته شامله ده که په مخالفت دَ اللّٰه تعالیٰ او دَ رسول سره وی اوکه په مرتدکیدلو سره اوکه په شرك اوکفرکولوسره وی۔

[۳٤] روستودَخطاب دَمؤمنانونه زجردے کافرانوته۔ مخکښ (۳۲)په باره دَ ضدیانوعنادیانوکښ ووُ اودا په باره دَ جاهلانوکافرانوکښ دے۔

[۳۵] هرکله چه دَکافرانوخباثتونه ئے ذکرکړه نواوس مؤمنانوته تشجیع ورکوی په جهادکولواومنع کوی دوی لره دَے همته کیدلونه ﴿وَتَدْعُوْۤا اِلَى السَّلْمِ﴾ دَ دے ایت دَ سورة انفال(٦١) سره مخالفت نیشته ځکه چه هلته ئے شرط لګولے دے چه کافران هرکله دَ صلح طلب کوی نوبیا صلح کول جائزدی اودلته مراد دا دے چه تاسودَ اول سرنه طلب دَ صلحے مه کوئے دَ دے وجے نه په حدیبیه کښ صلح په طلب دَکافرانوسره شوے وه ﴿وَاَنْتُمُ الْاَعْلَوْنَ﴾ اوچت والے په عزت اوپه مرتبه کښ دے په نیزدَ اللّٰه تعالیٰ یعنی ستاسومرتبه په نیزدَ اللّٰه تعالیٰ اوچته ده.نوسپك کارمه کوئے یا مراد اوچت والے دے په حجت اودلیل کښ ﴿وَاللّٰهُ مَعَكُمْ﴾ په معنیٰ دَ ملګرتیا اومددکولوسره استعمالیږی اودابښکاره معنیٰ ده تاویل نه دے نو معلومه شوه چه معیت دَ متشابهاتونه دے لکه چه امام بخاری اونورسلفوهم دا معنیٰ ذکرکړے ده۔

[۳٦] په دے ایت کښ تزهید فی الدنیا ذکرکوی ځکه چه محبت دَ دُنیا سبب دَ وهن دے اودارنګ ترغیب ورکوی انفاق فی سبیل اللّٰه ته ﴿اِنَّمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا﴾ هغه ژوند اوهغه سامانونه چه دَدین دَپاره نه

اِنَّمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا لَعِبٌ وَّلَهْوٌ ؕ وَاِنْ تُؤْمِنُوْا وَتَتَّقُوْا يُؤْتِكُمْ اُجُوْرَكُمْ وَلَا يَسْـَٔلْكُمْ اَمْوَالَكُمْ ﴿۳۶﴾
اِنْ يَّسْـَٔلْكُمُوْهَا فَيُحْفِكُمْ تَبْخَلُوْا وَيُخْرِجْ اَضْغَانَكُمْ ﴿۳۷﴾ هٰٓاَنْتُمْ هٰٓؤُلَآءِ تُدْعَوْنَ لِتُنْفِقُوْا فِيْ
سَبِيْلِ اللّٰهِ ۚ فَمِنْكُمْ مَّنْ يَّبْخَلُ ۚ وَمَنْ يَّبْخَلْ فَاِنَّمَا يَبْخَلُ عَنْ نَّفْسِهٖ ؕ وَاللّٰهُ الْغَنِيُّ وَاَنْتُمُ الْفُقَرَآءُ ۚ
وَاِنْ تَتَوَلَّوْا يَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ ۙ ثُمَّ لَا يَكُوْنُوْٓا اَمْثَالَكُمْ ﴿۳۸﴾ ع

یقیناً ژوند دُنیوی لوبے او مشغله ده او که تاسو ایمان راوړو ا و تقویٰ مو اوکړه نو دربه کړی تاسوته ثوابونه ستاسو او نه غواړی اللّٰه تعالیٰ ستاسونه مالونه ستاسو (۳۶) که چرے او غواړی ستاسونه مالونه او زور در باندے اوکړی نو بخل به اوکړئے او راښکاره به کړی کینے ستاسو (۳۷) خبر شئے تاسو اے خلقو رابللے کیدلے شئے دپاره دَ دے چه خرچه اوکړئے په لار دَ اللّٰه تعالیٰ کښ نو بعض ستاسو نه هغه دی چه بخل کوی او چا چه بخل اوکړو نو یقیناً بخل کوی (چه راوځی) دَ نفس دَ هغه نه او اللّٰه تعالیٰ بے حاجته دے او تاسو حاجتمند ئیے او که چرے مخ واړوؤ تاسو نو بدله کښ به راولی نور خلق سیوا ستاسو نه بیا به نه وی هغوی ستاسو پشان (۳۸)

خرچ کیږی هغه دلته مراد دی ﴿لَعِبٌ وَّلَهْوٌ﴾ دا دواړه په دے مفهوم کښ شریك دی چه په بے فائدے ځیزباندے مشغوله کیدل دی لیکن په لعب کښ ځان خوشحالول مقصد وی اودا اکثرد وړو بچوکارونه وی اوپه لهو کښ صرف ځان مشغولول وی سرور اوخوشحالی پکښ مقصد نه وی اودا دَ ځوانانواودَ مشرانوخلقوکاروی ﴿وَاِنْ تُؤْمِنُوْا وَتَتَّقُوْا﴾ اشاره ده چه هرکله دَ ژوند دُنیوی سره ایمان او تقویٰ جمع شی نو بیا په هغے سره ډیرے فائدے حاصلیږی اوپه تقویٰ سره مراد په دے ایت کښ دَ بزدلئے او وهن اودَ بخل نه بچ کیدل دی په جهاد اوانفاق کولوسره﴿وَلَا يَسْـَٔلْكُمْ اَمْوَالَكُمْ﴾ پدیکښ ډیرتوجیهات دی اوله داده چه ستاسونه ټول مالونه نه غواړی بلکه بعضِ حصّه دَ مال لکه لسمه شلمه اوځلویښتمه۔ دویم داچه ستاسومالونه اللّٰه تعالیٰ دَ ځان دپاره نه غواړی بلکه ستاسو انفاق ستاسو دَ فائدے دَپاره دے۔

[۳۷] په دے کښ حکمت ذکرکوی چه اللّٰه تعالیٰ ستاسونه ټول مال نه غواړی دَپاره دَ دے چه شرمنده نشئے په بخکاره کیدلو دَ بخل او دَ کینے کولوسره ځکه چه اللّٰه تعالیٰ مهربان دے او په خپلو بندګانو باندے پرده اچوی۔

[۳۸] مخکښ ایت کښ بخل ذکرکړے شو په هغه وخت کښ چه ټول مال ترینه طلب کړے شی نواوس ترقی کوی په زجرکښ چه ټول مال خوپریګده که لګه حصه ترینه دَ انفاق فی سبیل اللّٰه دَ پاره طلب کړیشی نوهم دوی بخل کوی ﴿وَاِنْ تَتَوَلَّوْا يَسْتَبْدِلْ قَوْمًا﴾ مطلب دا دے چه مخاطبین چه صحابه کرام دی هغوی مخ نه وؤ اړولے دَ دے وجے نه دَ هغوی په ژوند کښ دَ دین حفاظت اللّٰه تعالیٰ په بل چا باندے دَ هغوی په بدله کښ نه دے کړے هاں هرکله چه دَ سلف صالحینو دَ زمانے تیریدلونه روستورفته رفته عربومخ واړه وؤنواللّٰه تعالیٰ دَ دین کارعجموته اوسپارلو۔ یا دا خطاب منافقانودَمدینے ته وؤچه هغوی وخت په وخت دَجهاد اوانفاق نه مخ اړه وؤنواللّٰه تعالیٰ هغوی رفته رفته هلاك کړل اوانصارئے دَهغوی په ځائے باندے دَ دین دَ حفاظت دَ پاره قائم کړل۔

سُوْرَةُ الْفَتْحِ (٤٨) مَدَنِيَّةٌ (١١١) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ٢٩ رُكُوْعَاتُهَا ٤

اِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِيْنًا ۙ﴿١﴾ لِّيَغْفِرَ لَكَ اللّٰهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْۢبِكَ وَمَا تَاَخَّرَ وَيُتِمَّ نِعْمَتَهٗ عَلَيْكَ وَيَهْدِيَكَ صِرَاطًا مُّسْتَقِيْمًا ۙ﴿٢﴾ وَّيَنْصُرَكَ اللّٰهُ نَصْرًا عَزِيْزًا ﴿٣﴾ هُوَ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ السَّكِيْنَةَ فِيْ قُلُوْبِ الْمُؤْمِنِيْنَ لِيَزْدَادُوْٓا اِيْمَانًا مَّعَ اِيْمَانِهِمْ ؕ وَلِلّٰهِ جُنُوْدُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا

یقیناً فتح درکړه مونږ تاته فتح ښکاره (١) دَ دے دپاره چه بخنه اوکړی تاته اللّٰه تعالیٰ دَ هغه چه مخکښ تیر شویدی دَ خطائیے ستانه او هغه چه روستو شویوی او پوره کوی نعمت خپل په تا باندے او کلکه وی تا لره په لار نیغه باندے (٢) او مدد به کوی تا سره اللّٰه تعالیٰ مدد عزت والا (٣) خاص اللّٰه تعالیٰ هغه ذات دے چه رالیږلے ده تسلی (یقین) په زړونو دَ مؤمنانو کښ دے دپاره چه زیاتی شی ایمان سره ایمان دَ دوی نه او خاص اللّٰه تعالیٰ لره لښکرے دَ اسمانونو اودَ زمکے دی او اللّٰه تعالیٰ دے علم والا

سورة الفتح

ربط: دَ دے سورة دَ مخکښ سورة سره په ډیرو وجوهوسره دے اوله وجه ،هرکله چه امر دَ قتال اوشو په مخکښ سورة کښ نوپه دے سورة کښ بشارت دے په فتح اوپه انزال السکینه سره۔ دویمه وجه هرکله چه په هغه سورة کښ دَمؤمنانو هغه اتلس صفات ئیے ذکرکړل چه علتونه دَ تشجیع دَ قتال فی سبیل اللّٰه ووٗ نو اوس داسے اتلس صفتونه دَ هغوی ذکرکوی چه اسباب دَ رضا دَ اللّٰه تعالیٰ دی دَ هغوی نه۔

دعویٰ دَ سورة: زیرے ورکول نبی ﷺ ته په فتح سره او عظمت شان دَ هغه اوزیرے ورکول مؤمنانو (صحابه کرامو) ته په انزال السکینة سره اوذکردَصفاتودَ هغوی۔ اومسئله دَ توحید ئیے په مختلف تعبیراتوسره په (٧،٩،١١،١٤،٢٦،٢٧) کښ راوړے ده اونهه اسماء حسنیٰ دَ اللّٰه تعالیٰ۔

خلاصه دَ سورة :دا سورة تقسیم دے دوه بابونوته اول باب تر(١٨) پورے دے په دے کښ دوه بشارتونه دی اودَ هریوسره متعلق څلورڅلورامورذکردی بیا صدق دَ رسول اوعظمت شان دَهغه سرهٗ دَ ذکردَ توحیدنه بیانوی بیالس قباحتونه دَ منافقانو زجراً اوذکردَ عذر والودے په (١٧) کښ۔

تفسیر

[١] مراد دَ فتح نه په صحیح قول کښ صلح دَ حدیبیه ده چه سبب دَفتح دَاسلام اوګرځیدله په دلیل دَحدیث دَبراء بن عازب ﷺ سره هغه وئیلی دی چه تاسوفتح دَمکے فتح ګڼړئے هاں هغه خویوفتح ده اومونږبیعت الرضوان فتح ګڼړو ﴿فَتْحًا مُّبِيْنًا﴾ په دیکښ ډیرمعجزات ښکاره شول اوسبب شو دَ غلبے دَ اسلام او قتال پکښ هم او نشو دَ دے وجے نه مبین صفت ئیے ذکرکړو۔

[٢،٣] دا ذکردَ څلورو فائدو دے په فتح کښ دپاره دَنبی ﷺ ۔

اوله فائده: ﴿لِّيَغْفِرَ لَكَ اللّٰهُ﴾ یعنی فتح سبب دے دَپاره دَ دے څلورو فائدواو وجه دَ سببیت دا ده چه فتح مبین دَ وجے دَ جهاد او دَ قتال فی سبیل اللّٰه او دَ نورو تکالیفو تیرولونه روستو راغله اودغه کارونه سبب دَ

حَكِيمًا ﴿٤﴾ لِّيُدْخِلَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَيُكَفِّرَ

حکمتونو والا (٤) دے دپاره چه داخل کړی مؤمنان سړی او مؤمنے زنانه جنتونو ته چه بهیږی لاندے دَ هغے نه ولے همیشه به وی دوی په هغے کښ او لرے به کړی

مغفرت دَګناهونودی۔ سوال: لفظ دَ مغفرت اوذنب دلالت کوی چه نبیﷺ ګناهونه کړیدی اوحال دا دے چه هغه اوټول انبیاء علیهم السلام معصوم دی دَ ګناهونونه؟ جواب په ډیرو وجوهو سره دے اوله وجه داده چه دا جمله مستلزم دَګناهونوکولو دَپاره نه ده دَدے وجے نه چه دَ ذنب نه مراد خلاف الافضل کارونه دی چه هغه ګناه نه دے لیکن دَ انبیاء علیهم السلام دپاره سبب دَ خفګان وی نوهغه خفګان اللّٰه تعالیٰ لرے کړے دے ته مغفرت وئیلے شویدے۔ دویمه وجه مغفرت په معنیٰ دَ عصمت دے لکه شربینی دا قول نقل کړیدے یعنی اللّٰه تعالیٰ ته بچ ساتلے ئے دَګناهونوکولونه په تیرشوی وخت کښ اوهم په روستووخت کښ ﴿مَاتَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَاتَأَخَّرَ﴾ په دے کښ ډیراقوال دی دَ مفسرینو۔قول دَ مجاهد دا دے چه مخکښ دَ نبوت نه او روستودَ نبوت نه۔ دویم قول مخکښ دَ فتح نه او روستو دَ فتح نه۔ دریم قول مخکښ دَ دے وخت نه او روستودَدے نه۔

دویمه فائده: ﴿وَيُتِمَّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكَ﴾ په دے کښ اشاره ده نزول دَ هغه احکاموته چه روستودَ فتح نه نازل شویدی اودارنګ اشاره ده چه روستودَ فتح نه به ډیرمتکبرین خلق په اسلام کښ داخل شی۔

دریمه فائده: ﴿وَيَهْدِيَكَ صِرَاطاً مُّسْتَقِيماً﴾ هدایت په معنیٰ دَ تثبیت سره دے یعنی فتح سبب شودَپاره دَتثبیت په دین باندے۔

څلورمه فائده: ﴿وَيَنْصُرَكَ اللّٰهُ نَصْرًا عَزِيزًا﴾ مراد دَ نصرنه غلبه ورکول دی په ټولو دُشمنانو باندے نواشاره شوه دَ مکے فتح کولوته او ورسره دَ دغے نه روستوچه کوم فتوح نبیﷺ ته حاصل شول۔

[٤] دا دویم بشارت دے مؤمنانوته په انزال السکینه سره ۔مراد دَدے نه کلکیدل دی په دین او اطمینان دَ زړه دے او شبهات دَ زړه لرے کیدل دی سرهٔ دَ دے نه چه دَ حدیبیه دَسفرمصیبتونه اودَکفارومنع کول اوبغیردَمقصد دَعمرے کولونه وطن ته واپس کیدل اوبعض شرطونه دَ صلح چه ظاهراً دلیل دَکمزورئ وومنل، داټول سبب دَ زیغ او دَ خفګان وؤ لیکن دَ هغے اثرئیے دَ دوی دَ زړونونه لرے کړو۔ بیا دے انزال السکینه باندے څلور فائدے مرتب کړی دی۔

فائده: ﴿لِيَزْدَادُوٓا اِيمَاناً مَّعَ اِيمَانِهِمْ﴾ او وجه دَتفریع دَدے فائدے دا ده چه هرکله شبهات دَ زړه نه لرے شول اوډیرمعجزات دَنبیﷺ (چه په سفرحدیبیه کښ) ښکاره شول نوپه دے سره ضرور ایمان زیات شواوپه دے زیادت دَا یمان کښ اقوال دی اول ایمان په شرائعودَ دین باندے روستودَ ایمان باللّٰه والیوم الاخرنه دا روایت دَابن عباس رضی اللّٰه عنهما دے دویم قول یقین په اللّٰه تعالیٰ او په رسول باندے وؤ نوهغه یقین نورزیات شو دا دَ ضحاك قول دے۔

فائده: دا ایت دلیل دے چه په نفس ایمان کښ زیاتے اوکمے راځی او امام بخاری رحمة اللّٰه علیه دغه شان اته ایات دَ دے مسئلے په اثبات کښ ذکرکړی دی مثلاً معلومه خبره ده چه په ایمان (یقین) دَ

عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ ؕ وَكَانَ ذٰلِكَ عِنْدَ اللّٰهِ فَوْزًا عَظِيْمًا ۝٥ وَّيُعَذِّبَ الْمُنٰفِقِيْنَ وَالْمُنٰفِقٰتِ وَ
الْمُشْرِكِيْنَ وَالْمُشْرِكٰتِ الظَّآنِّيْنَ بِاللّٰهِ ظَنَّ السَّوْءِ ؕ عَلَيْهِمْ دَآئِرَةُ السَّوْءِ ۚ وَغَضِبَ اللّٰهُ
عَلَيْهِمْ وَلَعَنَهُمْ وَاَعَدَّ لَهُمْ جَهَنَّمَ ؕ وَسَآءَتْ مَصِيْرًا ۝٦ وَلِلّٰهِ جُنُوْدُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَ
كَانَ اللّٰهُ عَزِيْزًا حَكِيْمًا ۝٧ اِنَّآ اَرْسَلْنٰكَ شَاهِدًا وَّمُبَشِّرًا وَّنَذِيْرًا ۝٨ لِّتُؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ

دَ دوی نه بدئے دَ دوی او دا ده په نیز دَ اللّٰه تعالیٰ کامیابی لویه (٥) او عذاب به ورکړی منافقانو سړو او زنانه منافقو لره او مشرکانو سړو او زنانو مشرکوته چه گمانونه کوی په اللّٰه تعالیٰ باندے گمان ناکاره په دوی باندے دی مصیبتونه نا کاره او غضب کړیدے اللّٰه تعالیٰ په دوی باندے او لعنت ئے کړیدے او تیار کړیدے دوی لره جهنم او ناکاره دے ځائے دَ ورګرځیدلو (٦) او خاص اللّٰه تعالیٰ لره دی لښکرے دَ اسمانونو او دَزمکے اودے اللّٰه تعالیٰ زوراور حکمتونو والا (٧) یقیناً مونږ لیږلے ئے ته حق بیان کوؤنکے او زیرے ورکوؤنکے او ویره ورکوؤنکے (٨) دے دپاره چه ایمان راوړئے تاسو په اللّٰه تعالیٰ او په رسول دَ هغه

ابوبکرؓ اوپه یقین زمونږ کښ ډیرفرق دے۔ اوبعض علماؤ دَ دے نه زیادت دَ ایمان په سبب دَ اعمالو کولو سره مراد کړے دے یعنی دَ چاچه عملونه زیات وی نوایمان ئے زیات وی اودَچاچه عملونه کم وی نوایمان ئے کم وی۔ اودوی وائي چه نفس ایمان(یقین) کښ زیادت نه راځی نودا قول ضعیف دے بلکه دواړه زیادتونه ثابت دی﴿وَلِلّٰهِ جُنُوْدُالسَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ﴾ دا علت حقیقیه دَ انزال السکینة دے یعنی اسباب دَ نصرت کله ملائك دَ اسمانونو رالیږل دی اوکله حیوانات حشرات دَ زمکے اودا ټول دَ اللّٰه تعالیٰ په اختیار کښ دی اوهرکله چه اسباب دَ نصرت دَ هغه په اختیارکښ دی نو نصرت الٰهیه سبب دَ سکون دَ زړونو دے هغه دَ هغه په اختیارکښ دے۔

[٥] دا دویمه اودریمه فائده ده مرتب ده په انزال السکینه باندے دپاره دَ زیادت دَایمان یعنی په دے مجموعه باندے دخول دَ جنت اوتکفیر دَ سیئاتو بنادے۔

[٦] دا ځلورمه فائده ده یعنی سکون اونصرت دَ مؤمنانوسبب دَ غمونو اوخفګانونودَ دُشمنانودے اودَ عذاب دَ دُنیا دے او مراد دَعذاب نه دلته عذاب دنیوی دے اوهغه ذلیل او مغلوب کیدل دَ منافقانو او کافرانو دی او دارنګ تسلّط دَ مؤمنانوپه دوی باندے په قتل کولو او قیدکولو دَ دوی سره ﴿ظَنَّ السَّوْءِ﴾ دوی ګمان کوی چه اللّٰه تعالیٰ لره شریکان یا اولاد دی یا اللّٰه تعالیٰ بغیرَ وسیلو(شرکیو) نه حاجتونه نه پوره کوی یا دَ اللّٰه تعالیٰ صفات نیشته یا صفتونه ئے مشابه دی دَ مخلوق سره دے ته بدګمان ویلے کیږی ﴿عَلَيْهِمْ دَآئِرَةُ السَّوْءِ﴾ مراد دَ دائرة السوء نه مصیبتونه دَ دنیا دی په ذلیل کیدلو او قید کیدلو اومغلوب کیدلو اونور قسم عذابونوباندے۔

[٧] داعلت دے دپاره دَعذاب دَمنافقانواومشرکانویعنی اللّٰه تعالیٰ دَدوی په عذاب ورکولوقدرت لری ځکه چه ټولے لښکرے دَ هغه په تصرف کښ دی او دَ هغه ملکیت دے دَ هغے په ذریعه دوی لره عذابونه ورکولے شی۔

[٨] دا اثبات دَصدق رسول دے او متعلق دے دَ انافتحنالك سره نو دا علت دَ فتح ورکولو دے یعنی فتح دَ

وَتُعَزِّرُوْهُ وَتُوَقِّرُوْهُ ؕ وَتُسَبِّحُوْهُ بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا ۝۹ اِنَّ الَّذِيْنَ يُبَايِعُوْنَكَ اِنَّمَا يُبَايِعُوْنَ
اللّٰهَ ؕ يَدُ اللّٰهِ فَوْقَ اَيْدِيْهِمْ ۚ فَمَنْ نَّكَثَ فَاِنَّمَا يَنْكُثُ عَلٰى نَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ اَوْفٰى بِمَا عٰهَدَ
عَلَيْهُ اللّٰهَ فَسَيُؤْتِيْهِ اَجْرًا عَظِيْمًا ۝۱۰ سَيَقُوْلُ لَكَ الْمُخَلَّفُوْنَ مِنَ الْاَعْرَابِ شَغَلَتْنَاۤ اَمْوَالُنَا

او مدد اوکړئ دَ هغه (دَ دین) او عزت ئے اوکړئ او پاکی وائیے دَ هغه صبائي او بیګائي (۹) یقیناً هغه کسان چه بیعت کوی ستا سره نو یقیناً بیعت کوی دوی دَ اللّٰه تعالیٰ سره لاس دَ اللّٰه تعالیٰ دَ دوی دَ لاسونو د پاسه دے نو چا چه مات کړو (بیعت) نو یقیناً ماتوی د پاره دَ ضرر دَ ځان خپل او چا چه پوره کړو هغه چه وعده ئے په هغے باندے دَ اللّٰه تعالیٰ سره کړیده نو زرده چه وربه کړی هغه ته ثواب لوئے (۱۰) زر اوبه وائي تاته پاتے کړے شوی دَ باندچیانو نه چه مشغول کړیدی مونږ لره مالونو زمونږ

دے وجے ورکړے شوه چه تهٔ رسول برحق ئے یا دا فتح مبین دلیل دَ رسالت دَ نبی ﷺ دے ﴿شَاهِدًا﴾ شهادت په دنیاکښ مراد دے او شهادت په معنیٰ دَ بیان کولودَ حق دے په غیرباندے یعنی ته به بیان اوتبلیغ کوؤنکے ئیے او دَ بیان کولو دوه قسمونه ئیے ذکرکړل بشارت او انذار اوکه مراد دَ شهادت نه شهادت په عملونو مراد شی نومراد ترینه صرف هغه خلق دی چه دَ نبی ﷺ په زمانه کښ ئے دَ هغه په رواندے عملونه کول اوځوك چه دَ دے نه ثابتوی چه نبی ﷺ حاضرو ناظردے نو داتحریف دَ قرآن کوي۔

[۹] په دے کښ څلورفائدے دَ ارسال دَ رسول ذکرکوی۔

اوله فائده: ایمان باللّٰه والرسول دے اشاره ده چه ایمان تفصیلی په اتباع دَ رسول حاصلیږی۔

دویمه فائده: ﴿وَتُعَزِّرُوْهُ﴾ ضمیراللّٰه تعالیٰ ته راجع دے نومراد دَ دے نه نفی کول دَ ولد اوشریك دی دَ اللّٰه تعالیٰ نه اوردکول دی په مشرکانوباندے۔ یا راجع دے رسول ته نومراد دا دے چه دَ هغه دَ دین اودَسنت دَمخالفت کولونه به خلقولره منع کوئے اودَ هغوی شبهات به دفع کوئے۔

دریمه فائده: ﴿وَتُوَقِّرُوْهُ﴾ په دے ضمیرکښ هم دواړه احتمالونه دی اوتوقیردَ اللّٰه تعالیٰ دَ هغه نوم په عزت سره ذکرکول دی دَ هغه بندګی خاص کول دَ هغه په صفاتودَ کمال باندے ایمان راوړل دی اوتوقیردَ رسول اللّٰه ﷺ هغه ته په صرف نوم سره آوازنه کول دَ هغه دَ سنت احترام کول دَ هغه دَ نوم سره صلوٰة سلام وئیل دَ هغه پوره تابعداری کول دی۔

څلورمه فائده: ﴿وَتُسَبِّحُوْهُ﴾ دا ضمیرصرف اللّٰه تعالیٰ ته راجع دے۔

[۱۰] روستودَ اثبات دَ رسالت اودَ ذکرکولودَ مقصد دَ رسالت نه بشارت دے تابعداری کوؤنکودَ هغه ته اوتشجیع ده په جهاد باندے ﴿اِنَّ الَّذِيْنَ يُبَايِعُوْنَكَ﴾ دا واقعه دَ بیعت الرضوان ته اشاره ده چه په دے سورة کښ دَ هغے تفصیل به راشی او دا بیعت دَصحابه کرامودَ نبی ﷺ سره وؤبعض کسانوبیعت کړے وؤ په مرګ باندے او بعض بیعت کړے وؤ چه تیخته به نه کوؤ اوبعضو بیعت کړے وؤپه جهاد باندے (دا تطبیق دے په مینځ دَمختلف روایتونو کښ) ﴿اِنَّمَا يُبَايِعُوْنَ اللّٰهَ﴾ دا دَ دے وجے نه چه هرقول اوفعل دَ رسول اللّٰه ﷺ په حکم دَ اللّٰه تعالیٰ سره دے (ومایَنطق عن الهوی) اوداپشان دَ ومن یطع الرسول فقد اطاع اللّٰه نساء(۸۰) دے ﴿يَدُ اللّٰهِ فَوْقَ اَيْدِيْهِمْ﴾ په دے کښ اشاره ده چه بیعت کښ دَ نارینه دَپاره لاس ورکول شرط دی هاں

وَ اَهْلُوْنَا فَاسْتَغْفِرْ لَنَا ۚ يَقُوْلُوْنَ بِاَلْسِنَتِهِمْ مَّا لَيْسَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ ؕ قُلْ فَمَنْ يَّمْلِكُ لَكُمْ
مِّنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا اِنْ اَرَادَ بِكُمْ ضَرًّا اَوْ اَرَادَ بِكُمْ نَفْعًا ؕ بَلْ كَانَ اللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا ⑪ بَلْ
ظَنَنْتُمْ اَنْ لَّنْ يَّنْقَلِبَ الرَّسُوْلُ وَالْمُؤْمِنُوْنَ اِلٰٓى اَهْلِيْهِمْ اَبَدًا وَّ زُيِّنَ ذٰلِكَ فِيْ قُلُوْبِكُمْ وَظَنَنْتُمْ
ظَنَّ السَّوْءِ ۖۚ وَكُنْتُمْ قَوْمًۢا بُوْرًا ⑫ وَمَنْ لَّمْ يُؤْمِنْۢ بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ فَاِنَّاۤ اَعْتَدْنَا لِلْكٰفِرِيْنَ

او بال بچ زمونږ نو مونږ لره بخنه اوغواړه وائي دوی په خپلو ژبو باندے هغه خبرے چه نیشته په زړونو دَ دوی کښ ته اُوایه نو څوك وس لری ستاسو دپاره دَ عذاب دَ اللّٰه تعالیٰ نه دَ بچ کولو که چرے اوغواړی اللّٰه تعالیٰ په تاسو باندے تکلیف یا اوغواړی په تاسو باندے نفع بلکه اللّٰه تعالیٰ دے ستاسو په عملونو باندے خبردار (١١) بلکه ګمان کوئے تاسو چه چرے به واپس اونه ګرځی رسول او مؤمنان (صحابه) خپل بال بچ ته هیڅرے او ډولی شوے وؤ دا ګمان په زړونو ستاسو کښ او ګمانونه کول تاسو ګمانونه بد او تاسو وئے قوم تباه کیدونکی (١٢) او څوك چه ایمان نه راوړی په اللّٰه تعالیٰ او په رسول دَهغه باندے نو یقیناً تیار کړے دے مونږ کافرانو لره

زنانه دپاره لاس ورکول منع دی ځکه چه حدیث دَعائشه رضی اللّٰه عنها کښ وارد دی(واللّٰه ما مست ید النبیﷺ ید امرئةٍ قط) قسم دے په اللّٰه تعالیٰ باندے چه لاس دَ نبیﷺ دَلاس دَ (پردئے) ښځے سره نه دے لګیدلے۔ بلکه بیعت دَهغه دَزنانوسره صرف په ویناکولوسره وؤ ﴿يَدُاللّٰهِ﴾ دَ ید معنیٰ ظاهری مراد ده چه لاس دے او دارنګ دَ لفظ فوق معنیٰ اوچت والے دے لیکن بغیر دَ تمثیل او دَ تشبیه نه دَ مخلوق سره او کیفیت ئے مجهول دے دا عقیده دَ سلف صالحینو ده اوچاچه تاویل کړے دے په نصرت یا په احسان کولویا په حفاظت کولو یا په قوت وغیره سره دغه تاویلات ټول باطل دی ځکه چه مستلزم کیږی انکار دَ صفت دَ اللّٰه تعالیٰ لره بیا داجمله مستلزم ده چه نصرت او امداد دَ اللّٰه تعالیٰ دَ مؤمنانو دَ محنت اوعمل نه ډیردے۔

[١١] دَ دے ایت نه تر (١٦) پورے زجرونه دی منافقانوته چه دَ دے سفرنه پاتے شوی وو دَ وجے دَ ویرے دَ قریش نه اکرچه نبیﷺ دوی ته قولاً اوفعلاً ښکاره کړے وه چه مونږ اراده دَ جنګ نه لرو۔ فِعلاً داده چه دَ ذوالحلیفه نه ئے احرام دَ عمرے اوترلو اوهدایائیے دَ ځان سره روانے کړلے۔ بیا په دے ایاتونوکښ لس قباحتونه دَمنافقانوذکرکوی۔ په دے ایت کښ ئے درے قباحتونه دَ هغوی ذکرکړی دی۔ اشاره ده چه اللّٰه تعالیٰ دوی لره دَنبیﷺ دَملګرتیانه روستوپاتے کړل په سبب دَنفاق دَ زړونو دَ دوی ﴿شَغَلَتْنَاۤ اَمْوَالُنَا وَاَهْلُوْنَا﴾ دا دروغ عذردے دپاره دَپاتے کیدلودَ دے عمرے نه یعنی دوی وئیل چه دَ مالونواودَ اهل وعیال حفاظت کول ضروری دی اوزمونږ هیڅوك نائبان نیشته چه انتظام اوکړی په دے وجه مونږمشغول شو ﴿قُلْ فَمَنْ يَّمْلِكُ لَكُمْ﴾ حاصل دا دے چه ستاسوپاتے کیدل دَ رسول اللّٰهﷺ نه دپاره دَ حفاظت دَ مال اواهل تاسونه هیڅ ضررنه شی دفع کولے اوتاسوته څه فائده درکولے نشی۔

[١٢] دا هم زجردے په ذکرد ځلورو قباحتونودَ هغوی سره دا (بَلْ) دپاره دَترقیٔ دے یعنی دَ نفاق اوحسد سره دوی په فاسد ګمانونوپسے روان دی ﴿اَنْ لَّنْ يَّنْقَلِبَ﴾ مراد دَ دے نه دا دے چه دوی دَ رسول اودَ مؤمنانوشان سپك ګڼری اودَ مشرکانو شان لوئے ګڼری دَد ے وجے نه داګمان ئے کوؤ ﴿ظَنَّ السَّوْءِ﴾ مراد

سَعِيْرًا ﴿١٣﴾ وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ يَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ
غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿١٤﴾ سَيَقُوْلُ الْمُخَلَّفُوْنَ اِذَا انْطَلَقْتُمْ اِلٰى مَغَانِمَ لِتَاْخُذُوْهَا ذَرُوْنَا نَتَّبِعْكُمْ ۚ
يُرِيْدُوْنَ اَنْ يُّبَدِّلُوْا كَلٰمَ اللّٰهِ ؕ قُلْ لَّنْ تَتَّبِعُوْنَا كَذٰلِكُمْ قَالَ اللّٰهُ مِنْ قَبْلُ ۚ فَسَيَقُوْلُوْنَ بَلْ
تَحْسُدُوْنَنَا ؕ بَلْ كَانُوْا لَا يَفْقَهُوْنَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿١٥﴾ قُلْ لِّلْمُخَلَّفِيْنَ مِنَ الْاَعْرَابِ سَتُدْعَوْنَ اِلٰى قَوْمٍ
اُولِيْ بَاْسٍ شَدِيْدٍ تُقَاتِلُوْنَهُمْ اَوْ يُسْلِمُوْنَ ۚ فَاِنْ تُطِيْعُوْا يُؤْتِكُمُ اللّٰهُ اَجْرًا حَسَنًا ۚ وَاِنْ

اورتیز بلیدونکے (١٣) او خاص اللّٰه تعالیٰ لره بادشاهی دَ اسمانونو او دَ زمکے ده بخنه کوی چاته چه اوغواړی او عذاب ورکوی چاته چه اوغواړی او اللّٰه تعالیٰ دے بخنه کوؤنکے رحم کوؤنکے (١٤) زر دے وائي به پاتے کړے شوی خلق هر کله چه روان شئے تاسو غنیمتونو ته دے دپاره چه واخلئے هغه پریکدئے مونږ چه لاړشو تاسو سره غواړی دوی چه بدل کړی دوی کلام دَ اللّٰه تعالیٰ ته اُوایه هیڅ چرے مه ځئے زمونږ سره دغه شان وئیلے دی اللّٰه تعالیٰ دَ دے نه مخکښ نوزر دے دوی به اُوائي بلکه حسد کوئے تاسو زمونږ سره بلکه دوی نه پوهیږی مګر لږ (١٥) ته اُوایه پاتے کړے شوی باندچیانوته زردے را او بللے شئے به جنګ دَ داسے قوم ته چه سخت جنګ والا دی قتال به کوئے دَ دوی سره تر دے پورے چه اسلام راوړی نو که تاسو خبره اومنله دربه کړی تاسو ته اللّٰه تعالیٰ خائسته ثواب اوکه چرے

دادے چه اللّٰه تعالیٰ دَ دے رسول اومؤمنانو سره هیڅ امداد نه کوی ځکه چه دوی په دین باطل باندے دی۔

[١٣] دا تخویف اُخروی دے اواشاره ده چه دَ منافقانوایمان شرعی نیشته نودوی کافران دی۔

[١٤] دا ذکردَ توحید دے په ذکردَ صفتونودَ اللّٰه تعالیٰ سره اومقصد پکښ ترغیب دے چه دَنفاق نه توبه اوکړئے نواللّٰه تعالیٰ به درته بخښش اوکړی۔

[١٥] په دے ایت کښ هم زجردے په ذکردَځلوروقباحتونودَ منافقانوسره ﴿اِلٰى مَغَانِمَ لِتَاْخُذُوْهَا﴾ مراد دَ دے نه غنیمتونه دَ خیبردی اوپه دے تعبیرکښ اشاره ده چه دَ خیبر په غزوه کښ لګ تکلیف وؤ فتح دَ هغے اسانه او یقینی وه یعنی هرکله چه صحابه کرام دَ صلح دَ حدیبیه نه واپس شول تکلیفونه ورته ډیر اورسیدل او مقصد دَ سفرئے هم حاصل نه شونو دَ هغوی زړونوکښ خفګان وؤ دَ هغے دَ زائل کولو دَپاره اللّٰه تعالیٰ نبی ﷺ ته حکم اوکړوچه غزوه دَ خیبرته هغه صحابه کرام بوځه کوم چه په سفردَحدیبیه کښ شریك ووواونورچاته اذن مه ورکوه ﴿ذَرُوْنَا نَتَّبِعْكُمْ﴾ نوهرکله چه فتح دَخیبر اسانه وه او غنیمتونه حاصلیدل هم یقینی وؤدَ دے وجے نه منافقینودامطالبه اوکړه چه مونږهم تاسوسره غزوه دَخیبرته ځو ﴿كَلٰمَ اللّٰهِ﴾ مراد دَ دے روستو دواړه جملو کښ ذکر دے (قل لن تتبعونا کذلکم قال اللّٰه من قبل) بعض مفسرینو وئیلی دی مراد دَ دے نه وعده دَ اللّٰه تعالیٰ ده دَ اهل حدیبیه سره چه تاسوله به غنیمتونه دَ خیبر در کوؤم اوبعضو مفسرینو وئیلی دی چه مراد دَ دے نه امردَ اللّٰه تعالیٰ دے نبی ﷺ ته چه خیبر ته دِ نه ځی مګر صرف حدیبیے والا۔ په دے روستنو دواړو اقوالوکښ وحی خفی ته کلام اللّٰه اوئیلے شویعنی احادیث هم دَ اللّٰه تعالیٰ کلام دے ﴿فَسَيَقُوْلُوْنَ بَلْ تَحْسُدُوْنَنَا﴾ یعنی منافقان نسبت دَ حسد رسول اللّٰه ﷺ اوصحابه کراموته کوی۔ اوحسد وئیلے کیږی تمنّا کول دَ زوال دَ نعمتِ الٰهیه دَ بل چانه او دَ هغے

تَتَوَلَّوْا كَمَا تَوَلَّيْتُمْ مِّنْ قَبْلُ يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿۱۶﴾ لَيْسَ عَلَى الْاَعْمٰى حَرَجٌ وَّلَا عَلَى الْاَعْرَجِ
حَرَجٌ وَّلَا عَلَى الْمَرِيْضِ حَرَجٌ ؕ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ يُدْخِلْهُ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا
الْاَنْهٰرُ ۚ وَمَنْ يَّتَوَلَّ يُعَذِّبْهُ عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿۱۷﴾ لَقَدْ رَضِيَ اللّٰهُ عَنِ الْمُؤْمِنِيْنَ اِذْ يُبَايِعُوْنَكَ ع
تَحْتَ الشَّجَرَةِ فَعَلِمَ مَا فِيْ قُلُوْبِهِمْ فَاَنْزَلَ السَّكِيْنَةَ عَلَيْهِمْ وَاَثَابَهُمْ فَتْحًا قَرِيْبًا ﴿۱۸﴾ وَّمَغَانِمَ

تاسو مخ اوګرځوؤ لکه چه تاسومخ ګرځولے دے دَ دے نه مخکښ عذاب به درکړی تاسوته عذاب درد ناك (۱۶) نیشته په ړوند باندے ګناه اونه په ګوډ باندے ګناه او نه په نا جوړه باندے ګناه او چاچه تابعداری اوکړه دَ اللّٰه تعالیٰ او دَ رسول دَ هغه داخل به کړی دهٔ لره جنتونو ته چه بهیږی به لاندے دَ هغے نه ولے او چاچه مخ اوګرځوو عذاب به ورکړی دهٔ لره عذاب درد ناك (۱۷) یقیناً رضا شوے دے اللّٰه تعالیٰ دَ مؤمنانو (صحابو) نه کوم وخت چه بیعت کوؤ دوی تا سره لاندے دَ اونے نه نو خبروؤ اللّٰه تعالیٰ دَ هغه څیز نه چه په زړونو دَ دوی کښ وؤ نو راولیږله اللّٰه تعالیٰ تسلّی په دوی باندے او بدله ئے ورکړه دوی لره فتح نزدے (۱۸) او غنیمتونه

زوال دَ پاره کوشش کول اوحسد په هره طریقه سره چه وی نو ګناه کبیره دے۔

[۱۶] په دے کښ اشاره ده اظهاردَمنافقت دَ دوی ته ﴿سَتُدْعَوْنَ اِلٰى قَوْمٍ اُولِيْ بَاْسٍ شَدِيْدٍ﴾ مراد دَ دے نه قتال دَ بنوحنیفه اهل یمامه دے چه هغوی ته ابوبکرؓ دعوت ورکړے وؤاوفارس او روم دے چه هغوی ته عمرؓ دعوت ورکړے وؤ اوبناپه دے تفسیرباندے اشاره شوه چه دَ رسول اللّٰهﷺ نه روستوخلافت دَ ابوبکر اوعمررضی اللّٰه عنهما حق دے ځکه چه دَ هغوی دَ زمانے په قتال کښ شرکت کول ئے سبب دَ اجر حسن اوشرکت نه اعراض ئے سبب دَ عذاب ګرځولے دے۔ لیکن په قرینه دَ سورة توبه (۲۹)سره داحکم دَ اهل کتابوباره کښ نه دے بلکه دَهغوی نه جزیه اخستل هم جائزدی۔

[۱۷] دا حکم دَ معزورینودے چه مستثنیٰ دی دَفرضیت دَقتال نه ﴿وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ﴾ په دے کښ اشاره ده چه علاوه دَ قتال نه نور اطاعت په دوی باندے دَ دوی دَ استطاعت موافق فرض دے لکه دعوت تبلیغ وغیره۔

[۱۸] دَ دے ایت نه ترآخردَسورة پورے دویم باب دے په دے کښ اته (۸) حالات دَ صحابه کرامو ذکر کوی کوم چه حدیبیه کښ حاضر وو اودوی لره دنیوی او اُخروی بشارتونه ذکرکوی اودَ دوی په مقابله کښ زجرونه دی منافقانواومشرکانوته بیاجواب دَیوشبهے دَمنافقانودے په آخرکښ عظمتِ شان دَنبیﷺ دے اودَعام صحابه کرامولس صفات ذکرکوی۔ په دے ایت (۱۸)کښ دَ صحابه کرامودوه حالتونه اودرے بشارتونه ذکرکوی ﴿لَقَدْ رَضِيَ﴾ په دے کښ اول بشارت دے په دیرتاکید سره اودَ دے لفظ دَ وجے نه بیعت دَ حدیبیے ته بیعت الرضوان وئیلے کیږی ﴿اِذْ يُبَايِعُوْنَكَ﴾ اودَ دے سبب په اختصارسره داوؤ چه نبیﷺ حدیبیه مقام ته په اراده دَعمرے تقریباً دَپنځلس سوه صحابه کرامونه اورسیدلونو اول قاصدئے مکے والوته جواس بن امیه خزاعی رضیﷺ اولیږلولیکن دَهغه مخے ته دیرمشرکان حائل شول اومکے ته ئے دَتللواجازت ورنه کړوبیائے عثمانؓ اولیږلوهغوی عثمانؓ ته اجازت ورکړوچه ته عمره اوکړه لیکن

كَثِيْرَةً يَّاْخُذُوْنَهَا ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَزِيْزًا حَكِيْمًا ﴿۱۹﴾ وَعَدَكُمُ اللّٰهُ مَغَانِمَ كَثِيْرَةً تَاْخُذُوْنَهَا فَعَجَّلَ
لَكُمْ هٰذِهٖ وَكَفَّ اَيْدِيَ النَّاسِ عَنْكُمْ ۚ وَلِتَكُوْنَ اٰيَةً لِّلْمُؤْمِنِيْنَ وَيَهْدِيَكُمْ صِرَاطًا مُّسْتَقِيْمًا ﴿۲۰﴾
وَّاُخْرٰى لَمْ تَقْدِرُوْا عَلَيْهَا قَدْ اَحَاطَ اللّٰهُ بِهَا ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرًا ﴿۲۱﴾ وَلَوْ قٰتَلَكُمُ

ډیر چه اخلی دوی هغه او الله تعالی دے زوراور حکمتونو والا (۱۹) وعده کړے ده الله تعالی تاسو سره دَ ډیرو غنیمتونو چه اخلئے به تاسو هغه نو زر ئیے درکړو تاسوته دا او بندئیے کړو لاسونه دَ خلقو ستاسو نه او دَ دے دپاره چه شی نخښه دپاره دَ مؤمنانو او کلك کړی تاسو لره په لار نیغه باندے (۲۰) او نور غنیمتونه چه ستاسو وس نه دے برشوے په هغے باندے یقیناً راګیر کړیدی الله تعالی هغے لره په علم خپل کښ او دے الله تعالی په هر څیز باندے قدرت لرونکے (۲۱) او که چرے جنګ اوکړی تاسو سره

نبی ﷺ اونورو صحابوته اجازت نیشته نوعثمان ﷺ اوفرمائیل چه څه طواف نه کوؤم ترڅو پورے چه نبی ﷺ نه وی کړے په دے خبرواتروسره عثمان ﷺ مکه کښ ډیر ایسارکړے شو۔ اوخبرخورکړے شوچه هغه قتل کړے شوے دے نو دغه وخت نبی ﷺ صحابه کراموته دعوت ورکړوچه راشئے ماسره بیعت اوکړئے چه قتال به کوو او تیخته به نه کوو اونبی ﷺ دغه وخت دَکیکرڈ اونے په سوری کښ ناست وؤنوټولو صحابو بیعت اوکړو اونبی ﷺ خپل څے لاس په خپل ګس لاس کښ کیخودلو چه دَا بیعت دپاره دَعثمان ﷺ دے اودا واقعه دَ عثمان ﷺ دَرفعت شان دَپاره لوے دلیل دے او سعید بن المسیّب دَخپل پلارنه روایت کوی چه څه هم په دغه بیعت کوؤنکو کښ شامل ووم نوهرکله چه راتلونکی کال مونږ په دغه لاره راغلونو هغه اونه زمونږنه بالکل هیره کړے شوه اوعام تاریخونو کښ لیکلی دی چه دَ عمر ﷺ په دورخلافت کښ بعض خلق به راتلل او دَ یوے اونے دَ لاندے به ئے مونځونه کول په دے عقیدے سره چه دا متبرك مقام دے (دا اونه دوی په خیال سره مقررکړے وه) نوعمر ﷺ حکم اوکړو دَ هغے اونے په پریکولوسره اوهغه لارئیے بندکړله ﴿وَاَثَابَهُمْ فَتْحاً قَرِيباً﴾ مراد دَ دے نه فتح دَخیبرده چه په واقعه دَحدیبیه پسے متصل اوشوه اودا الله تعالی عوض اوګرځوؤ دپاره دَ اخلاص دَ بیعت کولو۔

[۱۹]دا عطف دے په (فَتْحاً) باندے اومراد ترینه غنیمتونه دَ خیبر دی۔

[۲۰] داهم بشارت دنیویه دے اومراد دَ دے مغانم نه روستودَخیبرنه تروفات دَ نبی ﷺ پورے ټول غنیمتونه دی ﴿هٰذِهٖ﴾ غنیمتونودَخیبرته اشاره ده ﴿وَكَفَّ اَيْدِيَ النَّاسِ عَنْكُمْ﴾ دا بل معجزانه انعام دے چه هرکله نبی ﷺ اراده دَسفردَعمرے اوکړه نویهودیانوقصد اوکړوچه مدینه باندے حمله کوؤدارنګه هرکله چه اراده دَغزوه دَخیبرئیے اوکړه نوقبائلودَ اسداوغطفان قصد اوکړوچه په مدینه باندے حمله اوکړی لیکن دَ دے ټولوپه زړونوکښ الله تعالی رعب واچووادَخپلواړادونه واپس شول۔

[۲۱] دا هم داخل دے بشارت دنیویه کښ ﴿وَاُخْرٰى﴾ ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے چه مراد دَ دے نه هغه فتوح دی چه روستو مسلمانانوته ورکړے شوی وولکه فارس اوروم اګرچه په اول وخت کښ په هغے باندے قدرت نه وؤ۔

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوَلَّوُا الْاَدْبَارَ ثُمَّ لَا يَجِدُوْنَ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ﴿٢٢﴾ سُنَّةَ اللّٰهِ الَّتِيْ قَدْ خَلَتْ مِنْ
قَبْلُ ۖ وَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّةِ اللّٰهِ تَبْدِيْلًا ﴿٢٣﴾ وَهُوَ الَّذِيْ كَفَّ اَيْدِيَهُمْ عَنْكُمْ وَاَيْدِيَكُمْ عَنْهُمْ
بِبَطْنِ مَكَّةَ مِنْۢ بَعْدِ اَنْ اَظْفَرَكُمْ عَلَيْهِمْ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرًا ﴿٢٤﴾ هُمُ الَّذِيْنَ
كَفَرُوْا وَصَدُّوْكُمْ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَالْهَدْيَ مَعْكُوْفًا اَنْ يَّبْلُغَ مَحِلَّهٗ ۭ وَلَوْلَا رِجَالٌ مُّؤْمِنُوْنَ
وَنِسَاۗءٌ مُّؤْمِنٰتٌ لَّمْ تَعْلَمُوْهُمْ اَنْ تَطَــــُٔوْهُمْ فَتُصِيْبَكُمْ مِّنْهُمْ مَّعَرَّةٌۢ بِغَيْرِ عِلْمٍ ۚ لِيُدْخِلَ
اللّٰهُ فِيْ رَحْمَتِهٖ مَنْ يَّشَاۗءُ ۚ لَوْ تَزَيَّلُوْا لَعَذَّبْنَا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿٢٥﴾ اِذْ جَعَلَ

کافران نو اوبه ګوځوی شاګانے بیا به نه مومی دوی هیڅ دوست اونه مددګار (٢٢) پشان دَ طریقے دَ اللّٰه تعالیٰ هغه چه تیره شویده مخکښ اوهیڅ چرے اوبه نه مومے ته طریقے دَ اللّٰه تعالیٰ لره بدلیدل (٢٣) او خاص اللّٰه تعالیٰ هغه ذات دے چه بندئیے کړل لاسونه دَ دوی ستاسونه اولاسونه ستاسو دَ هغوی نه په مینځ دَ مکه کښ روستو دَ دے نه چه وس ئیے بر کړو ستاسو په هغوی باندے او اللّٰه تعالیٰ دے ستاسو عملونو لره لیدونکے (٢٤) دا هغه خلق دی چه کفر ئیے کړیدے او منع کړی ئیے تاسو دَ مسجد حرام نه او هدیو لره چه بندے کړیشویدی دَ رسیدلو نه ځائے دَ حلالے ته او که چرے نه وے سړی مؤمنان او زنانه مؤمنے چه تاسو هغوی نه پیژنے چه دَځپو دَ لاندے به ئے کړئے نو اوبه رسیږی تاسوته دَ دوی دَ وجے نه نقصان بغیر دَ پوهے نه دَ دے دپاره داخل به کړی اللّٰه تعالیٰ په رحمت خپل کښ هغه چا لره چه اوغواړی که چرے دوی لرے شول نو عذاب به ورکړو مونږ کافرانو ته دَ دوی نه عذاب درد ناك (٢٥) کله چه واچوؤ

[٢٢،٢٣] دا هم بشارت کښ داخل دے یعنی کافران تاسوسره قتال نه شی کولے دَ دے وجے نه چه اللّٰه تعالیٰ ستاسوسره مددکوی ﴿سُنَّةَ اللّٰهِ﴾ مراد ترے نه امداد دَ اللّٰه تعالیٰ دے دَ تیرشوی انبیاء علیهم السلام سره په مقابله دَ کافرانو کښ چه اللّٰه تعالیٰ هغوی سره امداد کړے وو او کافران ئیے مغلوب کړی اوتباه کړی وو۔

[٢٤] داهم ذکردَ انعام دَ اللّٰه تعالیٰ دے په مؤمنانوباندے اودارنګ تائید دے دَمخکښ ایت یعنی دَ قتال په وخت کښ به دوی شاګرځوی دَوجے دَ امداد دَ اللّٰه تعالیٰ نه تاسوسره لکه چه په دے واقعه خاصه کښ اللّٰه تعالیٰ ستاسومددکړے دے ﴿وَهُوَ الَّذِيْ كَفَّ اَيْدِيَهُمْ عَنْكُمْ﴾ دَترمذی په روایت کښ راغلی دی چه اتیاکسان دَکافرانونه دَجبل تنعیم دَطرف نه دَ صبادَ مانځه په وخت کښ راکوزشول اوقصد ئیے کړے وؤچه نبی ﷺ لره قتل کړی نوصحابه کرامو دوی لره اونیول لیکن رسول اللّٰه ﷺ بیا دوی ازادکړل۔ دَ دے واقعے په بنامراد دَ بطن مکه نه حدیبیه ده دَ دے وجے نه چه دَحدیبیے څه حصّه په مکه کښ یعنی (حرم) کښ داخل ده۔

[٢٥] په دے ایت کښ حال دَ اهل مکه کافرانوبالخصوص ذکرکوی اودفع دَ وهم کوی که څوك أوائی چه صلح حدیبیه ولے اوکړے شوه بلکه اللّٰه تعالیٰ به امدادکړے وے دَ مؤمنانو سره اوپه مکے والو باندے به ئیے حمله کړے وے اوقتال به شوے وے؟ حاصل دَجواب دا دے چه هاں سبب دَ قتال خوموجود ووهغه کفردَ دوی اودَ مسجد حرام نه منع کول دَ مؤمنانواومنع کول دَ هدایا چه دا روستنی دواړه دَ دے مشرکانوپه دین کښ هم ناروا وو۔ لیکن دَ قتال نه مانع موجود وؤهغه وجود دَ کمزورو مؤمنانو دے په

اَلَّذِيْنَ كَفَرُوْا فِيْ قُلُوْبِهِمُ الْحَمِيَّةَ حَمِيَّةَ الْجَاهِلِيَّةِ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ سَكِيْنَتَهٗ عَلٰى رَسُوْلِهٖ وَ
عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَاَلْزَمَهُمْ كَلِمَةَ التَّقْوٰى وَكَانُوْٓا اَحَقَّ بِهَا وَاَهْلَهَا ؕ وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمًا ﴿٢٦﴾ ع
لَقَدْ صَدَقَ اللّٰهُ رَسُوْلَهُ الرُّءْيَا بِالْحَقِّ ۚ لَتَدْخُلُنَّ الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ اٰمِنِيْنَ ۙ مُحَلِّقِيْنَ

کافرانو په خپلو زړونو کښ غیرت غیرت دَ جاهلیت نو را اولیږله اللّٰه تعالیٰ تسلی خپله په رسول خپل باندے او په مؤمنانو (صحابو) باندے او کلکه ئے کړه په دوی باندے کلمه دَ توحید او وؤ دوی ډیر حقدار دَ هغے او لائق دَ هغے او اللّٰه تعالیٰ دے په هر څیز باندے علم والا (٢٦) یقیناً رښتینی کړے دے اللّٰه تعالیٰ دَ رسول خپل سره خوب په حقه سره ضرور داخلیږئے به مسجد حرام ته چه اللّٰه تعالیٰ او غواړی امن والا خریونکی

مکه کښ او وجود دَ هغه کسانوچه اللّٰه تعالیٰ دَ هغوی دَپاره ایمان راوړل مقررکړی وویعنی که چرے په مکه کښ په دغه وخت قتال کړے شوے وے نودغه مؤمنان به پکښ په غلطئے اوخطائے سره قتل کړے شوی وؤ ﴿اَنْ يَّبْلُغَ مَحِلَّهٗ﴾ دلته مراد دَ محل نه مکان دَ نحراودَ ذبح کولودَ هدایه دے اوهغه حرم شریف دے۔ ﴿وَلَوْلَا رِجَالٌ﴾ دا ذکردَمانع دَ قتال دے اومراد دَ دے کسانونه هغه مؤمنان دی چه دَهجرت کولونه په سبب دَ عذرسره یا دَکافرانوپه خبرسره پاتے شوی وو ﴿مَعَرَّةٌ﴾ لسان العرب کښ وئیلی دی چه معرَّة ځائے دَخارخ ته وائي اودارنګ ګناه اوسختئ، اذی (مصیبت) اوجنایت اوتاوان ته هم وئیلے کیږی۔ نودلته معنیٰ داشوه که چرے تاسومؤمنانولره په بے عملئ سره وژلی وے نو لازم شوے به وے په تاسو پورے بدنامے لګول دَکافرانواودِیتونه دَ قتیلانوځکه چه یومؤمن په دارحرب کښ وی اوهجرت ئے نه وی کړے اودَ هغه دَ ایمان علم قاتل ته نه وی اوقتل کړے شی نوپه دے سره کفاره لازمیږی لکه چه سورة نساء(٩٢) کښ تیرشویدی ﴿لَوْ تَزَيَّلُوْا﴾ یعنی که چرته دامؤمنان دَ کافرانونه جداشی نو بیا به په دے کافرانوباندے ضرور عذاب راځی دَ قتاده نه روایت دے چه دا ایت دلیل دے چه دَ مؤمنانوپه وجه اللّٰه تعالیٰ دَکافرانونه عذاب دفع کوی اودَ دے قسم ډیرمسائل مفسرقرطبی دلته ذکرکړی دی هغه اوګورئے۔

[٢٦] داهم ذکردَ سبب دَ قتال اوذکردَمانع دَ قتال دے یعنی مشرکانودَ قتال دپاره سبب جوړ کړے وؤچه هغه حمّیت دَ جاهلیت وؤاوپه دیکښ ډیرقباحت دَمشرکانوذکرکوی هغه دا دے چه مسجد حرام او دَ عمرے نه منع کول خو دَدوی په دین کښ هم جائز نه وؤ لیکن سرهٔ دَ دے نه دوی مؤمنانو لره منع کړل دا خالص جاهلیت دے اودَ جاهلیت غیرت دا وؤ چه په خط دَ صلح کښ الرّحمٰن الرّحیم او محمد رسول اللّٰه لیکل ئے نه منل او دارنګ دَ خپل معبودان باطله دَپاره ئے حمیّت اوعصبیت کوؤ ﴿فَاَنْزَلَ اللّٰهُ سَكِيْنَتَهٗ﴾ مراد دَ دے نه توفیق دَصبراواستقامت دے په مقابله دَحمیة الجاهلیة کښ اودیته رسول هم محتاج دے دَ دے وجے نه علی رسولهِ ئے ذکرکړو ﴿وَاَلْزَمَهُمْ كَلِمَةَ التَّقْوٰى﴾ هغه کلمه چه په هغے سره دَشرك نه بچاؤ کیږی اوهغه کلمه دَتوحید ده اودا تفسیرقرطبی کښ په حدیث مرفوع اوپه اقوالودَ صحابه کرامو سره هم ذکرکړے ده اومراد دا دے چه مشرکان په شرك باندے کلك وونواللّٰه تعالیٰ مؤمنانولره په توحید باندے کلك کړل یا مراد دا دے چه لازم ئے کړوپه دوی باندے رعایت اولحاظ کول دَ کلمے دَ توحید یعنی داسے طریقه اختیارکړئے چه په هغے

رُءُوْسَكُمْ وَمُقَصِّرِيْنَ لَا تَخَافُوْنَ ۭ فَعَلِمَ مَا لَمْ تَعْلَمُوْا فَجَعَلَ مِنْ دُوْنِ ذٰلِكَ فَتْحًا قَرِيْبًا ﴿۲۷﴾
هُوَ الَّذِيْٓ اَرْسَلَ رَسُوْلَهٗ بِالْهُدٰى وَدِيْنِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهٗ عَلَى الدِّيْنِ كُلِّهٖ ۭ وَكَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا ﴿۲۸﴾
مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ ۭ وَالَّذِيْنَ مَعَهٗٓ اَشِدَّاۗءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاۗءُ بَيْنَهُمْ تَرٰىهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا يَّبْتَغُوْنَ

دَ سرونو خپلو او لنډوژنکی دَ ویختو نه به ویریږئ دَ دُشمن نه نو خبروؤ اللّٰه تعالیٰ دَ هغے (حکمتونو) نه چه تاسو نه وئے خبرنو درکړه اللّٰه تعالیٰ دَ دے نه مخکښ فتح نزدے (۲۷) خاص اللّٰه تعالیٰ هغه ذات دے چه را اولیږلو ئیے رسول خپل په هدایت سره او په دین حق سره دَ دے دپاره چه غالب کړی دهٔ لره په ټولو دینونو باندے او پوره دے اللّٰه تعالیٰ گواهی ورکوؤنکے (۲۸) محمّد(ﷺ) رسول دَ اللّٰه تعالیٰ دے او هغه کسان چه دَ دهٔ تابعدار دی (صحابه) سخت دی په مقابله دَ کافرانو کښ رحم کوؤنکی دی په مینځ خپل کښ وینے ته دوی رکوع کوؤنکی سجده کوؤنکی لټوی

سره کلمه دَتوحید اوچتیږی او﴿اَحَقَّ﴾ اسم تفضیل کښ اشاره ده چه کوم خلق دَ دوی نه روستو مسلمانان شویدی نو هغوی حقدار دَ دے کلمے دی لیکن اصحاب دَ حدیبیے دے ټولونه زیات حقداروو﴿وَاَهْلَهَا﴾ په دیکښ اشاره ده چه حقداری دَ دوی عارضی نه وه بلکه دوی په علم دَ اللّٰه تعالیٰ کښ دَ دے کلمے اهل وو اوپه دیکښ اشاره ده هغه حدیث ته چه اختارهم اللّٰه (الصَّحَابَةَ) لِصُحبَةِ نَبِيِّهٖ۔

[۲۷] دا تسلّی ده رسول اللّٰهﷺ اوصحابه کرامونه اومتعلق دے دَ فانزل اللّٰه سکینته سره او جواب دَ سوال دَ منافقینودے چه هغوی وئیل چه رسول اللّٰهﷺ وئیلی ووچه ماخوب لیدلے دے چه مونږمسجد حرام ته داخل شواوعمره موکړے ده اوحال دا چه دے خوواپس دَحدیبیے نه راغے اوعمره ئیے اونکړه نوپه دے ایت کښ جواب دے حاصل ئیے دا دے چه په خوب کښ داسے نه وو وئیلے شوی چه په دے کال کښ به وی نوراتلونکی کال به دا خوب ضرور رشتینے شی ﴿اِنْ شَآءَ اللّٰهُ﴾ (سوال) دا کلمه دَ شك په مقام کښ استعمالیږی نودا دَ اللّٰه تعالیٰ دَ شان سره مناسب نه ده؟ (جواب) په ډیرطریقوسره دے، اول داچه ابوعبید وئیلی دی اِن په معنی دَ اذ سره دے غوره داچه په معنیٰ دَ اذا سره وی۔ دویم داکلمه دَپاره دَ تعلیم دَ بندګانوخپلوده۔ دریم داچه اِن په معنیٰ دَګما سره دے۔ څلورم داکلمه دَتبرك دَپاره ده لیکن بیاهم دَتعلیم دَبندګانودَپاره ده ځکه چه اللّٰه تعالیٰ تبرك ته محتاج نه دے﴿مُحَلِّقِيْنَ رُءُوْسَكُمْ وَمُقَصِّرِيْنَ﴾ دا اشاره ده پوره کولودَعمرے ته په تحلیل سره روستودَ طواف اوسعی نه اوحلق (ویختہ خرئیل) په تحلیل دَ احرام کښ غوره دی دَ قصرنه دَ دے وجے نه محلقین ئیے مخکښ ذکرکړوهاں عام حالاتوکښ قصرغوره دے دَ حلق نه ﴿مَالَمْ تَعْلَمُوْا﴾ اشاره ده هغه حکمتونوته چه په صلح دَ حدیبیه کښ وو لیکن مؤمنانوته دَ مخکښ نه علم دَ هغے حاصل نه وؤ۔

[۲۸] دا علت دے دَ لقد صدق اللّٰه اه دَپاره اوذکردَ صدق دَ رسول اللّٰهﷺ دے دَپاره دَ ردکولوپه هغه مشرکانوباندے چه صلح نامه دَحدیبیه کښ محمد رسول اللّٰه لیکلونه ئیے انکارکوؤاووئیل ئیے چه مونږستا رسالت نه منواودَ هغے په ځائے ئیے محمد بن عبد اللّٰه اولیکلو﴿بِالْهُدٰى وَدِيْنِ الْحَقِّ﴾ مراد دَ هدیٰ نه قرآن دے اودین الحق دَ هغے تشریح ده په سنت سره یا مراد دَ هدیٰ نه عقیده ده اودین الحق نوراحکام دی۔

فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانًا ۫ سِيْمَاهُمْ فِيْ وُجُوْهِهِمْ مِّنْ اَثَرِ السُّجُوْدِ ؕ ذٰلِكَ مَثَلُهُمْ فِي التَّوْرٰىةِ ۚۛ وَ
مَثَلُهُمْ فِي الْاِنْجِيْلِ ۚۛ كَزَرْعٍ اَخْرَجَ شَطْـَٔهٗ فَاٰزَرَهٗ فَاسْتَغْلَظَ فَاسْتَوٰى عَلٰى سُوْقِهٖ يُعْجِبُ الزُّرَّاعَ
لِيَغِيْظَ بِهِمُ الْكُفَّارَ ؕ وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ مِنْهُمْ مَّغْفِرَةً وَّاَجْرًا عَظِيْمًا ﴿۲۹﴾

فضل دَ اللّٰه تعالیٰ نه او رضا دَهغه نخښې دَ دوی په مخونو دَ دوی کښ دی دَ وجې دَ نخښو دَسجدو کولونه دا دَ دوی حال دے په تورات کښ او حال دَ دوی په انجیل کښ پشان دَ کروندے چه را اوباسی تیغ خپل نو کلك کړی هغه نو غټ شی بیا برابر او دریږی په پنډئے خپلے باندے خوشحاله وی زمیندارو لره (عاقبت دا) چه غصه شی په سبب دَ دے سره کافران وعده کړیده اللّٰه تعالیٰ دَ هغه کسانو سره چه ایمان ئیے راوړے دے او عملونه ئیے کړیدی دَ سنت برابر دَ دوی نه بخښنه او ثواب لوئے (۲۹)

﴿وَكَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا﴾ مراد ترینه شهادت دَ اللّٰه تعالیٰ دے په حقانیت دَ رسول اللّٰه ﷺ باندے اګرچه مشرکان شهادت نه کوی په رسالت دَهغه باندے۔ اوداسے ایت په سوره توبه (۳۳) کښ اوسورة صف (۹) کښ هم دے لیکن په هغه سورتونو کښ ردپه مشرکینواهلِ کتاب باندے مقصد وؤنوذکرکړے وو، ولوکره المشرکون اوپه دے سورة کښ په صلح کوؤنکومشرکانوباندے رد دے چه هغوی صلح نامه کښ په رسالت باندے شهادت نه کوؤ۔

[۲۹] روستودَ اثبات دَ رسالت اومقصد دَ رسالت نه اوس اوصاف دَ رسول او صحابه کرامو ذکر کوی او دا لس صفتونه دَ صحابه کرامو په عام حالاتو کښ دی اوتیرشوی اته احوال ووصرف په حالت دَ بیعت رضوان کښ ﴿مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ﴾ دا شهادت دَ اللّٰه تعالیٰ دے په رسالت دَ محمد ﷺ باندے لکه چه تیرشوی ایت په اخرکښ دَ هغے ذکرکړے شوے وؤ ﴿مَعَهٗۤ﴾ مراد دَ دے نه معیت دَ صحبت دے ترمرګه پورے اوصرف صحابه ترینه مراد دی یا مراد ترینه معیت دَتابعدارئے دے نوټول مؤمنان ترینه مراد دی ﴿اَشِدَّآءُ عَلَى الْكُفَّارِ﴾ دا اول صفت دے اودا شدت دَ وجے دَ نفرت دَکفراودَ شرك نه دے طبعی نه دے اودَ حسن بصری نه روایت دے چه په شدت کښ صحابه داسے حال ته رسیدلی وو چه خپلے جامے به ئیے هم دَکافرانونه بچ ساتلے اوبدنونه به ئے هم دَ هغوی دَبدنونونه ساتل۔ دَعبد اللّٰه بن عباس رضی اللّٰه عنهما نه روایت دے چه چامشرك سره مصافحه اوکړه نولاس دِ اوینځی۔ داهم دَ قبیلے دَ شدت نه دے ﴿رُحَمَآءُ بَيْنَهُمْ﴾ دا دویم صفت دے مراد دَ رحم نه په یوبل باندے ترس کول اومینه، محبت کول اومددکول اومعاف کول دی داسے په سورة مائده (٥٤) کښ هم ذکردی ﴿رُكَّعًا سُجَّدًا﴾ دا دوه صفتونه دی اودا اشاره ده اهمیت دَ صلوٰة اوکثرت دَهغے ته دَدوی په عملونوکښ ﴿سِيْمَاهُمْ فِيْ وُجُوْهِهِمْ مِّنْ اَثَرِ السُّجُوْدِ﴾ دا شپږم صفت دے په دے کښ اشاره ده ډیرومونځونو کولوته اوخصوصاً مونځ دَ تهجدته بیا په دے نسبه کښ دَ مفسرینودوه اقوال دی یوداچه دابه په آخرت کښ وی ځکه چه حدیث صحیح کښ راغلی دی مضمون ئیے دا دے چه په ورځ دَ قیامت به اللّٰه تعالیٰ ملائکوته حکم اوکړی چه دَجهنم نه مؤحدین راواوباسئی نوملائك به ئیے پیژنی په آثارو دَ سجدے ځکه چه کوم اندامونو باندے سجده کیږی نو اور دَ جهنم به هغه نه خوری دارنګ حسن بصری نه روایت دے چه مراد دَ دے نه سپین والے دَ مخونو دَ دوی دے په ورځ دَ قیامت په دلیل دَ ﴿يَوْمَ تَبْيَضُّ

وُجُوْهٌ وَتَسْوَدُّ وُجُوْهٌ) سره ـ دویم قول دا دے چه په دنیا کښ دے یعنی علامات دَ تهجد کولودَ شپے او دَ بیدارئے چه هغه خشوع او تواضع ده دا مجاهد وئیلی دی او زیړوالے دَ مخونو دَ دوی دا ضحاك وئیلی دی او دا نورا نیت دے چه په مخونو دَ تهجد کوؤنکو متّبعینو دَ سنت کښ معلومیږی او راجح دا ده چه دا جمله دواړه قولونوته شامل ده اومفسر بقاعی وئیلی دی چه دا گمان مه کوئے چه مراد دَدے نه هغه توره غوټه (نښه) ده چه په تندی دَ بعض کسانو کښ جوړه شوی وی دا خوارج دی اوپه نهایه دَ ابن اثیر کښ دی چه ابوالدرداء یو سړے اولیدلو چه دَ سترګوپه مینځ کښ داسے نښه وه نوهغه اوفرمائیل که دانه وے نوخه به وے ﴿ذٰلِكَ مَثَلُهُمْ فِي التَّوْرٰىةِ﴾ دا اوم صفت دے دَ صحابه کرامو دَ مفسرینونه دلته دوه قولونه نقل دی اول داچه په دے ځائے باندے وقف کول دی یعنی دا مخکښ چه کوم صفات دَ صحابه کرامو ذکرشول نوداسے په تورات کښ ذکردی او ﴿مَثَلُهُمْ فِي الْاِنْجِيْلِ﴾ نه نوے کلام (جمله) شروع کیږی۔ دویم قول دا دے چه وقف به په ﴿فِي الْاِنْجِيْلِ﴾ باندے وی اودَکزرع نه نوے جمله شروع ده۔ لیکن غوره پدیکښ اوله توجیه ده ﴿وَمَثَلُهُمْ فِي الْاِنْجِيْلِ كَزَرْعٍ﴾ دا اتم صفت دے دَ صحابه کرامو په طریقه دَ مثال سره او حاصل دَ دے مثال دا دے چه نبی ﷺ اول دعوت شروع کړونوکمزورے حالت وواجابت به یویوسړی کوؤ او ځان به ئے پټ ساتلوځکه چه دشمنانونه ویره وه لکه دَ فصل چه اول تیغ ښکاره شی نوکمزورے وی اومرغودَخورلوویره هم وی بیاالله تعالیٰ دعوت قوی کړو په مکه مکرمه کښ دَ عمر ﷺ او دَ ډیر صحابو دَ ملګرتیا په وجه سره دین ښکاره شولکه تیغ دَ فصل قوی شی نوښکاره شی دَ مرغووغیره دَ خورلو خطره وربانديے کمه شی بیا دَصحابه کرامو په مکه کښ اودَمکے نه بهرپه ګردونواح اوپه حبش کښ پوره جماعت جوړشو لکه فصل چه غټ شی او کلك شی نو بیا په مدینه منوره کښ خپل مستقل حکومت قائم شولکه فصل چه پوخ شی او فائدے ئے عامے شی ﴿فَاسْتَوٰى عَلٰى سُوْقِهٖ﴾ سوق نه مراد تنه دَ هغه بوټی ده چه روستودَ غټ والی نه په خپل ځائے برابر ولاړ وی هواګانے ئے ککړولے نشی اوکه کوګ شی نو دَ ویخ نه ئے نه شی ویستلے ﴿يُعْجِبُ الزُّرَّاعَ﴾ یعنی کرونده کوؤنکے دَ خپل محنت ښه نتیجه اُوینی چه فصل پوره شو پوخ شونوهغه ډیرخوشحاله شی نو دارنګ نبی ﷺ دَصحابه کرامو په ترقیٔ اوپه غټ جماعت اودَ دین په استقامت باندے خوشحاله شو اوپه دے جمله کښ اشاره ده دَ صحابه کرامونهم صفت ته ﴿لِيَغِيْظَ بِهِمُ الْكُفَّارَ﴾ په دے کښ اشاره ده لسم صفت دَ صحابه کراموته۔ ابن کثیرپه تفسیر کښ لیکلی دی چه امام مالك رحمة الله دَدے ایت نه استنباط کړے دے دَ کفردَ روافضو چه بدګوری صحابه کراموته اویوے ډلے دَ علماؤ دَ هغه سره موافقت کړے دے په دے مسئله کښ اوقرطبی دَ امام مالك رحمة الله قول ذکرکړے دے چه هغه وئیلی دی چه څوك سحر راپاسی او دَ هغه په زړه کښ په یوصحابی باندے بُغض اوغیض وی نو هغه ته دا ایت او رسیدلویعنی دَ دے په حکم کښ داخل شو ﴿وَعَدَاللّٰهُ﴾ دا بشارت دے اوصفت دَ ایمان اوعمل صالح ئے ذکرکړو اشاره ده چه صرف صحبت دَ نبی ﷺ سبب دَ جنت نه دے بلکه اصل سبب ایمان اوعمل صالح دے۔

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

سُوۡرَةُ الۡحُجُرٰتِ (۴۹) مَدَنِيَّةٌ (۱۰۶) — اٰيَاتُهَا ۱۸ رُكُوۡعَاتُهَا ۲

سورة الحجرات

ربط : دَ دے سورة دَ سورة فتح سره په خووجوهو سره دے اوله وجه دا ده هرکله چه مخکښ سورة کښ شان دَ صحابه کرامو او دَ هغوی دَ ترقئ کولو شان په طریقه دَمثال سره ذکرشونو اوس په دے سورة کښ اداب ذکرکوی دپاره دَ دفع دَاختلاف او تفرق په مینځ دَ هغوی کښ او دَ ټولو مسلمانانوکښ ـ دویمه وجه مخکښ سورة کښ صدق دَ رسول ﷺ ذکرکړو نوپه دے سورة کښ دَ هغه دَ احترام کولودپاره اصول ذکرکوی۔

دعویٰ دَ سورة : ذکردَ اصولواو ادابو دپاره دَ دفع دَاختلاف اوتفرق اودپاره دَ بقا دَاتحاد او اتفاق چه هغه په طریقه دَ لس اوامرو اواته نواهی سره دی۔

خلاصه دَ سورة دا ده: چه په دیکښ اوه اداب ذکرکوی دَپاره دَدفع کولو دَ تفرق اوبیازجرونه دی منافقانوته چه هغوی دَ دے ادابولحاظ نه کوی او اوصاف دَ مؤمنانو دپاره دَ تمییزپه مینځ دَ دوه ډلوکښ۔ اوزجردے په منافقانو باندے په دعویٰ کولودَ ایمان سره چه دا دعویٰ دپاره دَ دے ده چه اللّٰه تعالیٰ له خبرورکوی یا دپاره دَ دے چه په رسول باندے احسان بنکاره کوی او دا دواړه ردی اخلاق دی اوپه اخرکښ رد دے په شرك فی العلم باندے۔ تفصیل دَ ادابو دادے اول ادب دادے چه دَ قرآن اوسنت په مقابله کښ دَ هیڅ چارائے او خپله رائے مه پیش کوئے په دے سره تفرق راځی او رعایت کول دَ قرآن اوسنت په ټولو امورو کښ اودَ هغے په مقرره اوقاتو کښ په(۱) کښ اودویم ځان بچ کول دَتوهین دَ صاحب دَ شرعے او دَاحکاموشرعیونه او رعایت دَکیفیاتواوصفاتودَاحکاموشرعیوکول په(۲) کښ بیا بشارت دے ادب کوؤنکولره په(۳) کښ اوزجردے پریخودونکو دَ ادب لره په (۴،۵) کښ۔ دریم ادب ځان ساتل دَ قبلولو دَ خبر دَ فاسق نه دپاره دَ دے چه اختلاف رانشی اوتحقیق کول دَخبردَ هغه اوترغیب دے اطاعت دَ رسول اللّٰه ﷺ ته اوعمل کولوته په مقتضیٰ دَایمان باندے په (۷،۸)کښ۔ څلورم ادب امرکول په مصالحت کولوسره په مینځ دَمؤمنانوکښ دپاره دَ دفع کولودَ اختلاف اوجګړے کولوپه (۹،۱۰) کښ۔ پنځم ادب ځان بچ کول دَ تذلیل اوتحقیردَ اهل ایمان نه په درے طریقوسره اوداپیداکیږی دَ تکبّرکولونه یعنی تکبّرمه کوئے دا په (۱۱) کښ۔ شپږم ادب ځان بچ کول دَ هغه کارونونه چه اسباب دَ پیدائش دَ اختلاف او تفرق دی او دا پیدا کیږی دَ حسد کولونه یعنی بغض اوحسد مه کوئے دا په (۱۲) کښ۔ اُوم ادب ځان بچ کول دَ فخراوتعصب نسبی نه داهم سبب دَ تفرق دے اودا پیداکیږی دَ خوی دَ جاهلیت نه یعنی دَجاهلیت دَاخلاقونه ځان بچ کړئے اواکرام کول په سبب دَتقویٰ سره نه په نسب سره په (۱۳) کښ بیا دَ دے نه روستو بحث دَ اهل نفاق دے۔

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُقَدِّمُوْا بَيْنَ يَدَيِ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ①
يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَرْفَعُوْٓا اَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ وَلَا تَجْهَرُوْا لَهٗ بِالْقَوْلِ كَجَهْرِ
بَعْضِكُمْ لِبَعْضٍ اَنْ تَحْبَطَ اَعْمَالُكُمْ وَاَنْتُمْ لَا تَشْعُرُوْنَ ② اِنَّ الَّذِيْنَ يَغُضُّوْنَ اَصْوَاتَهُمْ عِنْدَ
رَسُوْلِ اللّٰهِ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ امْتَحَنَ اللّٰهُ قُلُوْبَهُمْ لِلتَّقْوٰى ؕ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّاَجْرٌ عَظِيْمٌ ③ اِنَّ

اے ایمان والو مه وړاندے کیږئے دَ اللّٰه تعالیٰ او دَ رسول دَهغه نه اویره کوئے دَ اللّٰه تعالیٰ نه یقیناً اللّٰه تعالیٰ هر څه اوری او په هرڅه پوهیږی (۱) اے ایمان والومه او چتوئے اوازونه خپل پورته دَ اواز دَ نبی(ﷺ) نه او په زوره وینا مه کوئے هغه ته پشان دَ زوره وینا ستاسو بعضودَ بعضو ته (هسے نه) چه بر باد به شی عملونه ستاسو او تاسو به نه پوهیږئے (۲) یقیناً هغه کسان چه خکته کوی اوازونه خپل دَ رسول اللّٰه(ﷺ) په خوا کښ دا هغه کسان دی چه ازمائلی دی اللّٰه تعالیٰ زړونه دَ هغوی دَ تقویٰ دپاره دَ دوی دپاره بخنه او ثواب لوئے دے (۳) یقیناً

تفسیر

[۱] دا اول باب دے دپاره دَ اتحاد اواتفاق پیداکیدلواودَ بچ کیدلودَ تفرق اواختلاف نه مفسر قرطبی ذکرکړیدی چه ایت عام دے ډیرو واقعاتوته شامل دے شاید چه دا ایت بغیرد سبب خاصه نه نازل شویدے۔ یعنی خاص سبب نزول ذکرکولوته ضرورت نیشته ﴿لَاتُقَدِّمُوْا﴾ فعل متعدی دے مفعول ئے پټ دے یعنی لاتقدموا ارائکم واقوالکم وافعالکم خپلے رائے او وینا کانے اوعملونه مه مخکښ کوئے ﴿بَيْنَ يَدَيِ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ﴾ مراد دَ دے نه قرآن اوحدیث اوحکم دَ اللّٰه تعالیٰ اودَ رسول اللّٰه(ﷺ) دے اولفظ دَ بین یدی په معنیٰ دَمخامخ حاضریدلواودَ لاسونوسره اونزدے کیناستلودے لیکن په طور دَ مثال اودَکنایه سره مراد دَ دے نه نفس حضوردے یعنی حکم دَاللّٰه تعالیٰ اودَ رسول حاضر دے نودَ ځان نه قول اوعمل او رائے اوقات اوطریقے مهٔ جوړوئے ﴿اِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ﴾ هرکله چه تقدم یا په اقوالوکښ وی نودَ هغے دپاره ئے سمیع راوړو یا په اعمالواوعقیدو کښ وی نو دَ هغے دپاره ئے علیم ذکرکړو۔

[۲] دا دویم ادب دے په دیکښ مقصد احترام اوتوقیردَ صاحب دَ شرع اودَکلام دَ هغه دے اوپه دے کښ اشاره ده رعایت دَ سنت ده په کیفیاتواوصفاتوکښ ﴿وَلَاتَجْهَرُوْا لَهٗ بِالْقَوْلِ﴾ دَ اولے جملے اودَ دے په مینځ کښ یوفرق دا دے چه په هغے کښ مراد وؤ چه خپل کلام اوآواز دَکلام دَ نبی(ﷺ) نه اعلیٰ مه ګرځوئے او دَ دے جملے مطلب دا دے چه دَ نوروخلقوسره ئے مساوی اوبرابرهم مه ګرځوئے ﴿اَنْ تَحْبَطَ اَعْمَالُكُمْ﴾ یعنی بے ادبی دَنبی(ﷺ) اګرچه بے پروائي سره وی لیکن هرکله چه عادت اوګرځی نوسبب شی دَپاره دَ اهانت دَ نبی(ﷺ) اواهانت دَ هغه سبب دَکفر دے اوکفر سبب دَ بربادئے دَ نیکواعمالودے۔

[۳] دا بشارت دے اهل ایمان ته چه دَ مخکښ ذکرکړے شوی ادب التزام کوی اودا ځلور صفات اواحوال دی دَصحابه کرامو دَپاره ﴿يَغُضُّوْنَ اَصْوَاتَهُمْ﴾ په حدیث دَ بخاری کښ ذکردی چه روستو دَ نزول دَ دے ایت نه عمر(ﷺ) په داسے ادب سره په غلی (خکته) اواز سره په مجلس دَ نبی(ﷺ) کښ خبرے کولے چه کله به نبی(ﷺ) وانۀوریدلے نو دَ دهٔ نه به ئے دوباره تپوس اوکړوچه تاځه اُوئیل او دغه شان روایت دَ

اَلَّذِيْنَ يُنَادُوْنَكَ مِنْ وَّرَآءِ الْحُجُرٰتِ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُوْنَ ۞ وَلَوْ اَنَّهُمْ صَبَرُوْا حَتّٰى تَخْرُجَ
اِلَيْهِمْ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۞ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِنْ جَآءَكُمْ فَاسِقٌۢ بِنَبَاٍ
فَتَبَيَّنُوْۤا اَنْ تُصِيْبُوْا قَوْمًۢا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوْا عَلٰى مَا فَعَلْتُمْ نٰدِمِيْنَ ۞ وَاعْلَمُوْۤا اَنَّ فِيْكُمْ رَسُوْلَ
اللّٰهِ ؕ لَوْ يُطِيْعُكُمْ فِيْ كَثِيْرٍ مِّنَ الْاَمْرِ لَعَنِتُّمْ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ حَبَّبَ اِلَيْكُمُ الْاِيْمَانَ وَزَيَّنَهٗ فِيْ قُلُوْبِكُمْ

هغه کسان چه اوازونه کوی تاته روستو دَ دیوالونو نه ډیر دَ دوی نه نه پوهیږی (٤) او که چرے دوی صبر کړے وے ترهغے پورے چه ته بهر راوتلے وے دوی ته ضرور بنه خبره ده دوی لره او اللّٰه تعالیٰ دے بخښنه کوؤنکے رحم کوؤنکے (٥) اے ایمان والو که راوړی تاسوته ګنهګار یو خبر نو تحقیق ئیے اوکړئے (هسے نه) چه اورسوئے (تکلیف) یو قوم ته په نا خبرئے سره نو،شئے به په خپلو کړوباندے پښیمانه (٦) او پوهه شئے یقیناً په تاسو کښ رسول دَ اللّٰه تعالیٰ شته دے که چرے ستاسو تابع شی په ډیرو کارونو کښ نو په تکلیف کښ به پریوځئے او لیکن اللّٰه تعالیٰ محبوب کړے دے تاسوته ایمان او ډولی کړیدے هغه په زړونو ستاسو کښ

ابوبکرﷺ په باره کښ هم راغلے دے ﴿اِمْتَحَنَ اللّٰهُ قُلُوْبَهُمْ﴾ یعنی دَ دوی زړونه اللّٰه تعالیٰ پاك کړی دَ هر قبیح فکراوعقیدے نه اوفراخ کړی دی دَپاره دَ قبلولودَ تقوٰی یا دَپاره دَ ښکاره کولودَ تقوٰی۔

[٤] دا زجردے هغه چاته چه دَ مخکښ ذکرشوی ادب لحاظ نه کوی ﴿اَلْحُجُرٰتِ﴾ هغه زمکے ته وئیلے کیږی چه دیوال ترینه چاپیره وی لیکن اکثرمستعملیږی دپاره دَکورچه په هغے کښ کوټه دَ او سیدلواوصحن وی چه راګیروی په دیوالونو کښ اودلته مراددیوالونه دَکورونودی ﴿اَكْثَرُهُمْ﴾ ئیے دَ دے وجے نه اُوئیل چه دَ بعضے کسانوآوازونه بے اختیاره اوچت وؤاو شربینی وئیلی دی چه اکثرپه معنیٰ دَکُل سره دے۔

[٥] دابیان دَادب دے دَپاره دَناپوهوخلقواودَ صبرنه مراد انتظارکول دی ﴿لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ﴾ اشاره ده چه ادب دَ مشرانو (ادب شرعی) سبب دَ خیراوبرکت اوسبب دَ مغفرت او رحمت دے۔

[٦] پدیکښ دریم ادب دے یعنی په تیرشوی اداب سره اتحاد جوړیږی لیکن بعضے خلق دا اتحاد خرابوی چه هغه فاسق دروغژن چغلخوروی نودَ هغه دَ بے تحقیقه خبرے منلونه ځان بچ کول ضروری دی۔ ﴿فَاسِقٌۢ﴾ مراد دَ دے نه هغه څوك دے چه ارتکاب دَګناه کبیره ئیے کړے وی اوصحیح توبه ئیے نه وی کړے اومسلمان وی دروغ وئیل، چغلی کول، دَمؤمنانوپه مینځ کښ فساد پیداکول دا ټول پکښ داخل دی۔ مفسر خازن وئیلی دی چه دا ایت عام دے نازل کړے شوے دے دَپاره دَبیان دَتثبت اودَا عتمادنه کولوپه خبردَفاسق باندے اوخطیب شربینی هم وئیلی دی چه نزول دَ ایت په باره دَولیدﷺ کښ دے خوهغه ته فاسق وئیل داکمزورے قول دے۔ وجه داده چه په دغه روایت چه ابن کثیراونورومفسرینو په سند سره نقل کړے دے لیکن سند ئیے متصل نه دے اوپه البدایه کښ وئیلی دی چه اللّٰه تعالیٰ دَ دے په صحت باندے پوهه دے ص(٢٩٤)ج(٨) ابن عربی په العواصم والقواصم اودَ هغے په تعلیق کښ په دے باندے ردکړے دے ﴿اَنْ تُصِيْبُوْا قَوْمًۢا﴾ دا نقصان ذکرکوی دَ قبلولودَخبر دَفاسق بغیردَتبیین نه ﴿بِجَهَالَةٍ﴾ مراد دَ دے نه بے خبری ده دَ حقیقت حال نه یا اشاره ده چه په دے خبر دَ فاسق باندے بے تحقیقه عمل کول جهالت دے۔

وَكَرَّهَ اِلَيْكُمُ الْكُفْرَ وَالْفُسُوْقَ وَالْعِصْيَانَ ؕ اُولٰٓئِكَ هُمُ الرّٰشِدُوْنَ ۙ﴿۷﴾ فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَ
نِعْمَةً ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿۸﴾ وَاِنْ طَآئِفَتٰنِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اقْتَتَلُوْا فَاَصْلِحُوْا بَيْنَهُمَا ۚ
فَاِنْۢ بَغَتْ اِحْدٰىهُمَا عَلَى الْاُخْرٰى فَقَاتِلُوا الَّتِيْ تَبْغِيْ حَتّٰى تَفِيْٓءَ اِلٰٓى اَمْرِ اللّٰهِ ۚ فَاِنْ فَآءَتْ
فَاَصْلِحُوْا بَيْنَهُمَا بِالْعَدْلِ وَاَقْسِطُوْا ؕ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِيْنَ ﴿۹﴾ اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ اِخْوَةٌ

اوبدئے بنکارہ کړیدے تاسوتہ کفر او ګناهونہ کول او نافرمانی کول داسے کسان خاص دوی کامیاب دی (۷) دَ وجے دَ فضل دَ اللّٰہ تعالیٰ نہ او دَ وجے دَ نعمت نہ او اللّٰہ تعالیٰ پوهہ حکمتونو والا دے (۸) او که چرے دوه ډلے دَمؤمنانونہ جنګ اوکړی نو روغہ اوکړئے دَ دوی په مینځ کښ نو که چرے زیاتے اوکړی یوه ډله په بله باندے نو جنګ اوکړئے دَ هغے ډلے سره چه زیاتے ئے کړے دے تردے پورے چه را اوګرځی فیصلے دَ اللّٰہ تعالیٰ ته نو که چرے راوګرځی نو روغہ اوکړئے دَ دوی په مینځ کښ په انصاف سره او انصاف کوئے یقیناً اللّٰہ تعالیٰ مینه کوی دَ انصاف کوؤنکو سره (۹) یقیناً مؤمنان رونړه رونړه دی

[۷] په دے کښ اشاره ده طریقے دَتحقیق دَخبرِ دَ فاسق ته اودارنګ تحذیر دے فاسق ته دَ دروغ خبروئیلونه یعنی خبرِ دَ فاسق به رسول اللّٰہ ﷺ ته پیش کیږی په ژوند دَ هغه کښ اودَ هغه سنت ته به پیش کیږی روستو دَ وفات دَ هغه نه نوپه دے طریقے سره به دَهغه فاسق دروغ اورشتیا معلومیږی ﴿فِيْكُمْ رَسُوْلَ اللّٰهِ﴾ وصف ئے ذکرکړونوم(محمد) ئے نه دے ذکرکړے اشاره ده چه دَهغه ذات خو حاضرناظرنه دے نه په ژوند دَ هغه کښ اونه روستو دَ مرګ دَ هغه نه لیکن صفت دَ رسالت(چه قرآن اوسنت دے) هغه په تاسو کښ باقی دے ﴿وَلٰكِنَّ اللّٰهَ حَبَّبَ اِلَيْكُمُ الْاِيْمَانَ﴾ دَ ماقبل نه وهم پیدا شوچه ایاصحابه کرامودا اراده کړے ده چه دروغ اُوائي اوپیغمبریه ځان پسے په هغے کښ تابع اوګرځوی نودا وهم لرے کوی چه دَ صحابه کراموشان دَ دے نه اوچت دے اولفظ دَ لَوْ يُطِيْعُكُمْ، په دے باندے دلیل دے ځکه چه لَوْ دپاره دَ انتفاء اودَ منع راځی یعنی داسے نه دی شوی فرق دادے چه محبت امرباطنی دے نومراد دَ ایمان نه عقیده صحیحه دَ توحید ده اوتزیین امرظاهری دے نومراد دَ ضمیرِ دَ زَيَّنَهٗ، نه اعمال دَایمان دی ﴿وَكَرَّهَ اِلَيْكُمُ الْكُفْرَ﴾ دا اشاره ده چه محبت دَ دوی دَ ایمان سره دومره زیات دے چه دَهغے مقابل ورته بدبنکاره کیږی الکفرمقابل دَایمان دے او﴿الْفُسُوْقَ وَالْعِصْيَانَ﴾ دامقابل دے دَ زَيَّنَهٗ، سره ځکه چه په هغے کښ اعمالوصالحه ته اشاره ده۔ اودَ دے دریو واړوویوفرق دا دے چه کفرخوانکار کول دی دَ طاعت دَ اللّٰہ تعالیٰ اودَ رسول ﷺ نه او الفسوق ګناه کبیره دے اوالعصیان ګناهونه صغیره دی۔

فائده: په لفظ دَ حَبَّبَ او كَرَّهَ کښ چه ضمیرفاعل ئے اللّٰہ تعالیٰ ته راجع دے اشاره ده چه ټول کارونه دَ خیر او شر اللّٰہ تعالیٰ پیداکړی دی اودا رد دے په قدریه معتزله باندے۔

[۸] په دے کښ اشاره ده چه دغه تیرشوی اوصاف دَ اللّٰہ تعالیٰ دَ طرف نه احسان دے۔

[۹] په دے کښ ځلورم ادب ذکرکوی یعنی کوم وخت چه دَ فاسق خبراوملے شی بغیرِ دَ تحقیق نه اودَ هغے په سبب سره دَ مؤمنانوپه مینځ کښ اختلاف او دُشمنی اوقتل وقتال پیداشی نوپه نورو مؤمنانو باندے

فَاَصْلِحُوْا بَيْنَ اَخَوَيْكُمْ وَاتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ۝١٠ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ
مِّنْ قَوْمٍ عَسٰٓى اَنْ يَّكُوْنُوْا خَيْرًا مِّنْهُمْ وَلَا نِسَآءٌ مِّنْ نِّسَآءٍ عَسٰٓى اَنْ يَّكُنَّ خَيْرًا مِّنْهُنَّ ۚ
وَلَا تَلْمِزُوْٓا اَنْفُسَكُمْ وَلَا تَنَابَزُوْا بِالْاَلْقَابِ ۭ بِئْسَ الِاسْمُ الْفُسُوْقُ بَعْدَ الْاِيْمَانِ ۚ وَمَنْ
لَّمْ يَتُبْ فَاُولٰۗىِٕكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ۝١١ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اجْتَنِبُوْا كَثِيْرًا مِّنَ الظَّنِّ ۡ اِنَّ
بَعْضَ الظَّنِّ اِثْمٌ وَّلَا تَجَسَّسُوْا وَلَا يَغْتَبْ بَّعْضُكُمْ بَعْضًا ۭ اَيُحِبُّ اَحَدُكُمْ اَنْ يَّاْكُلَ لَحْمَ

نو روغه کوئے په مینځ دَ رونړو ستاسو کښ اویره کوئے دَ اللّٰه تعالیٰ نه دَ دے دپاره چه رحم او کړیشی په تاسو باندے (۱۰) اے ایمان والو مسخرے دنه کوی هیڅ نارینه په نورو نارینو پورے کیدے شی چه هغوی به وی غوره دَ دوی نه او نه زنانه په نورو زنانو پورے کیدیشی چه هغوی به غوره وی دَ دوی نه او طعنونه مه کوئے په خپلو ځانونو باندے او مه یادوئ یو بل په ناکاره نو مونو سره بد نوم فسق والا روستو دَ ایمان نه او چاچه توبه اونکړه نو هغه کسان دوی ظالمان دی (۱۱) اے ایمان والو ځان بچ کوئے دَ ډیر ګمانونو نه یقیناً بعضِ ګمانونه ګناه دے او عیبونه دَ یوبل مه لټوئے او غیبت دِ نه کوی بعض ستاسو دَ بعضو ایا خوخوی یوتن ستاسو چه اوخوری غوښے

فرض دی چه دَ هغوی په مینځ کښ دَ مصالحت کوشش اوکړی اوطرف داری دِنه کوی دَپاره دَ دے چه اتحاداواتفاق دَمؤمنانوته نقصان اونه رسیږی ﴿فَاَصْلِحُوْا بَيْنَهُمَا﴾ یعنی په نصیحت کولواوفیصلے دَ قرآن اوسنت ته په راباللوسره، اوداسے په سورة نساء(۱۳۵)او(۱۲۸)کښ هم ذکرکړے شوی دی ﴿فَاِنْ بَغَتْ اِحْدٰىهُمَا﴾ مراد دَ بغی نه دا دے چه یوطائفه فیصلے دَ قرآن اوسنت ته غاړه کینږدی بلکه دَفسادکولو اراده کوی ﴿حَتّٰى تَفِيْۗءَ اِلٰٓى اَمْرِ اللّٰهِ﴾ مراد دَ دے نه کتاب اللّٰه اوسنت رسول اللّٰه ﷺ دے ﴿بِالْعَدْلِ﴾ دا تاکید ئے دَ دے وجے نه ذکرکړے دے چه قتال دَ دوی سبب دَ حسد او دَ کینے اونه ګرځی دَ هغے دَ وجے نه عدل نه شی کیدے۔ قرطبی وئیلی دی چه دلته په عدل کښ دا خبره داخل ده چه دے باغیانو دَ تاویل په وجے سره کوم مالونه اونفسونه تلف (هلاك) کړی وی نو دَ هغے مطالبه ترینه نشی کیدے﴿وَاَقْسِطُوْا﴾ معنیٰ دا چه زائل کړے ظلم په کولودَ عدل سره۔

تنبیه: روستودَحکم دَ عدل نه امرپه اقساط سره دَ دے وجے نه دے چه مراد دَ دے نه حصه اوحق ورکول دی په داسے حالاتوکښ اکثر دَ انسانانو حقوقوته نقصان اورسیږی نو دَد ے وجے نه دَاقسطوا حکم مستقل ذکرشو۔

[۱۰] دا علت دے دَپاره دَ امردَ اصلاح کولواوپه لفظ دَ اَلْمُؤْمِنُوْنَ، کښ اشاره ده چه اختلاف دَ نسب ته اعتبار نیشته بلکه ایمان صرف سبب دَ اخوّت او رورولئے دَپاره دے۔

[۱۱] دا پنځم ادب دے هرکله چه دَ دوه طائفوجګړه تیره شی نوپه هغے کښ دَیو بل نقصانونه اوعیبونه معلوم شی لیکن روستو دَ مصالحت نه دَ هغه نقصانونو په وجه سره دَ هغے سپك والے جائزنه دے هسے نه چه بیا فساد او اختلاف پیداشی نوپه دے ادب کښ دَ درے څیزونونه منع کړے شوے ده چه هغه سبب دَ توهین دَ مسلمان دے او بیا سبب دَ فساد دے ۔ اول څیز مسخرے کول یعنی دَ بعضِ نقصان په وجے سره یا بغیر دَ

نقصان نه چاته سپك كتل اوپه هغه پورے پڑموزے كول اگرچه عيب ئے بنكاره نه ذكر كوى ـ او مسخرے كول په بل پورے مستلزم ده تكبر كولولره او دا خوى دَ مشركانو كافرانو دے چه حق پرستوپورے مسخرے كوى ﴿قَوْمٌ مِّنْ قَوْمٍ﴾ قوم ته قوم دَ دے وجے نه وئيلے كيږى چه ځوك يوتن دَ قوم له سختئ ته دعوت وركړى نودوى ورسره اودريږى اودا صفات اكثرد نارينو وى دَ دے وجے نه دَ قوم اطلاق حقيقةً په نارينو باندے كيږى او زنانه پكښ كله كله مجازاً دا خليږى ﴿وَلَانِسَآءٌ﴾ دلته دَ زنانه ذكرئے جدا اوكړو يودَ دے وجے نه چه په زنانوكښ مسخرے كول په يوبل پسے ډيرے وى بل دَ دے وجے نه چه اكثر نارينه په زنانه پورے يا زنانه په نارينه پورے مسخرے نه كوى بلكه هريو جنس په خپل هم جنس پورے مسخرے كوى ﴿عَسٰٓى اَنْ يَّكُوْنُوْا خَيْرًا مِّنْهُمْ﴾ دَ دے دوه مقصدونه دى يو داچه په ظاهر كښ هغه سړے (چه مسخرے ورپورے كيږى) سپك بنكارى ليكن حقيقت كښ هغه اللّٰه تعالىٰ ته مقرّب اونزدے وى۔ دويم مقصد دا دے،كيدیشى چه په راتلونكى وخت كښ چه دا مسخره كوؤنكے انسان ذليل مسكين عيبژن شى اوبل عزت مندشى نو معامله به په عكس سره شى۔ اودويم ځيزچه دَ هغے نه منع كړے شوے ده اودَكورنئ فساد پيداكوى په دے قول كښ دے ﴿وَلَاتَلْمِزُوْٓا اَنْفُسَكُمْ﴾ لمزمخامخ عيب او بدوئيلوته وئيلے كيږى او په اصل كښ اشاره كول په سترګو او په سر اوپه شونډو سره سرهٗ دَ پټوخبرو كولونه اوهمزصرف پشى شاعيب وئيلوته وئيلے كيږى نولمزډيرناكاره دے په نسبت دَهمزسره اودَهمزذكرروستو ايت كښ په ضمن دَغيبت كښ ذكر كوى۔ اوچه مخامخ عيب وائې نوپه ديكښ توهين دَ مسلمان هم دے۔ اودريم ځيز چه سبب دَ فساد اوتحقيردَمسلمان دے اودَ هغے نه منع كړے شوے ده په دے قول كښ ﴿وَلَاتَنَابَزُوْا بِالْاَلْقَابِ﴾ اومه يادوئے يوبل په ناكاره نومونو سره داهم دليل دے په تكبر كولودَ تنابزكوؤنكى اوپه تحقيردَ هغه بل مسلمان باندے۔ نَبَزُ، لقب ذكر كولو ته وئيلے كيږى اواكثرپه ناكاره لقب كښ استعماليږى او لقب دَ خپل نوم نه علاوه بل وصفى نوم دے چه په هغے كښ دَ انسان اوچت والے يا تذليل مقصودوى ـ نومراد دَ دے جملے دا دے چه يومسلمان په داسے ناكاره لقب سره مه رابلئے چه په هغے لفظ سره هغه خفه كيږى او دَ بلنه كوؤنكى مقصد هم دَ هغه سپك والے وى۔لكه چه اوئيلے شى اے فاسقه اے منافقه، اے كافره او اے يهودى، اے نصرانى اواے خرّه اے خنزيره ﴿بِئْسَ الِاسْمُ الْفُسُوْقُ بَعْدَ الْاِيْمَانِ﴾ اَلْفُسُوْق يومقصد دا دے چه هغه نوم چه دلالت كوى په فسق باندے يعنى فاسق منافق يهودى نصرانى وئيل ﴿بَعْدَ الْاِيْمَانِ﴾ يعنى روستو دَ ايمان راوړلونه دانومونه مؤمن ته وئيل ډيربدكاردے۔ دويم مقصد دَ الفسوق دا دے چه دا نومونه مؤمن ته ذكر كول سبب دَ فسق او دَ ګناهګارئ دى۔ اوپه حديث صحيح كښ نقل دى چاچه يو رورته اوئيل اے كافره نوپه دے سره يو دَ دے دواړو نه اخته شوكه هغه سړى كښ كفروى نو درست ده اوكه نه وى نو دا خبره په ويونكى باندے واپس راګرځى۔

اَخِيْهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوْهُ ؕ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ تَوَّابٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۲﴾ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اِنَّا خَلَقْنٰكُمْ
مِّنْ ذَكَرٍ وَّاُنْثٰى وَجَعَلْنٰكُمْ شُعُوْبًا وَّقَبَآئِلَ لِتَعَارَفُوْا ؕ اِنَّ اَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللّٰهِ اَتْقٰىكُمْ ؕ

دَ رور خپل چه مړوی نوتاسوخوبد کنړئ او ویره کوئ دَ اللّٰه تعالیٰ نه یقیناً اللّٰه تعالیٰ توبه قبلوؤنکے رحم کوؤنکے دے (۱۲) اے خلقو: یقیناً مونږ پیدا کړی ئے تاسو دَیو نارینه اودَ یو زنانه نه او جوړ کړی ئے مونږ تاسو خاندانونه او قبیلے دَ دے دپاره چه یو بل اوپیژنئے یقیناً ډیر عزت مند ستاسو نه دَ اللّٰه تعالیٰ په نیز ډیر تقویٰ دار دے

[۱۲] دا شپږم ادب ذکرکوی اوپه دے کښ نور درے قسمه څیزونونه منع کوی چه هغه هم سبب دَفساد او دَ اختلاف پیدا کیدلودی اودَیومسلمان توهین اوسپك والے دے اوبل په تکبرباندے دلالت کوی اودا ټول ګنده خصلتونه دی چه دَ مسلمان دَ شان سره نه ښائیږی۔ مخکښ ایت کښ هغه څیزونه ذکر ووچه مخامخ دَمسلمان دَسپك والی اسباب وواوپه دے کښ داسے څیزونه ذکرکوی چه پشی شا دَهغه دَسپك والی اسباب وی اودا درے هم په خائسته ترتیب سره دی اول بدګمانی کول دی چه کیدے شی چه په دے انسان کښ به نقصانونه وی نوبیا دَ هغه دَ نقصاناتوتجسّس اولټلول شروع کړی نوبیا دَ هغے پشی شا ذکرکوی چه هغه غیبت کول دی ﴿كَثِيْرًا مِّنَ الظَّنِّ﴾ پوهه شه چه انسان کښ داسے حال پیداشی چه دَیوځیز په باره کښ نه دَخیرحکم کولے شی اونه دَ شرنودے حالت ته شك وئیلے کیږی په هغے باندے په هیڅ صورت کښ عمل کول جائزنه دی اوکله په انسان کښ داسے حال پیداشی چه یوطرف ته دَحکم کولوترجیح ورکوی لیکن بل طرف ته ئے هم مرجوح خیال وی نوراجح طرف ته ظن (ګمان) وئیلے کیږی۔ اوکله چه داسے حال وی چه یوطرف باندے داسے حکم کولے شی چه دَبل طرف ورته هیڅ وهم اوخیال هم نه راځی نوهغے ته یقین وئیلے کیږی هغه خودرجه دَایمان ده په شرعیاتوکښ۔ هرکله چه ظن مذموم دَمنافقانواودَکافرانومشرکانوکاردے اوهغوی ډیردی اودارنګ بغیرد دلیل نه په چا باندے تهمت لګول داهم ډیر موجود دی نودَ دے وجے نه ﴿كَثِيْرًا﴾ ئے اوفرمائیل اودَکافرانومنافقانودَ تشبیه نه ئے منع اوکړله ﴿اِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ اِثْمٌ﴾ سوال: مخکښ ئے ﴿كَثِيْرًا﴾ لفظ سره ذکرکړو اوامرد اجتناب ئے ذکرکړو هغه دلیل وؤچه ډیرګمانونه ګناه دے اوپه دے جمله کښ ئے بَعْضَ لفظ ذکرکړو چه دلالت کوی په کموالی باندے؟ جواب: په څووجوهوسره دے اوله وجه دا ده چه بَعْضَ مطلق ټکړے ته وئیلے کیږی که لګه وی اوکه ډیره وی هاں په دے لفظ کښ اشاره ده چه بعضِ ظن محمود دے لکه چه مخکښ ذکرکړے شو۔ دویمه وجه دا ده چه اکثرګمانونه بے اختیاره په زړه کښ پیداکیږی بیا روستوځوك دَ هغے مطابق عقیده اوعمل اوکړی اوځوك ئے پریږدی نوپه ﴿اجْتَنِبُوْا﴾ کښ احتیاط کولوته اشاره وه چه احتیاط کوئے چه بے اختیاره ګمانونه مذمومه ستاسوزړونوکښ رانشی اوهرکله چه عقیده اوعمل په هغے باندے بعضے خلق کوی او بعضے نه کوی او بعضے باندے عمل کول خیروی او بعضے باندے عمل کول ګناه اوشروی نوروستوجمله کښ بَعْضَ لفظ ذکرکړو ﴿وَلَا تَجَسَّسُوْا﴾ هرکله چه دَ بدګمان اودَتهمت لګولونه روستودا انسان کوشش کوی چه په دغه بل انسان کښ عیبونه اولټوی نودَهغے نه منع کوی ﴿وَلَا يَغْتَبْ

اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌ خَبِيْرٌ ﴿۱۳﴾ قَالَتِ الْاَعْرَابُ اٰمَنَّا ؕ قُلْ لَّمْ تُؤْمِنُوْا وَلٰكِنْ قُوْلُوْٓا اَسْلَمْنَا وَلَمَّا يَدْخُلِ الْاِيْمَانُ فِيْ قُلُوْبِكُمْ ؕ وَاِنْ تُطِيْعُوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ لَا يَلِتْكُمْ مِّنْ اَعْمَالِكُمْ شَيْـًٔا ؕ

یقیناً اللّٰہ تعالیٰ علم والا دے خبر لرونکے دے (۱۳) وائي باندېچیان ایمان راوړے دے مونږ ته اُوایه ایمان نه دے راوړے تاسو او لیکن وائیے چه مونږ اسلام قبول کړیدے او تراوسه نه دے داخل شوے ایمان په زړونو ستاسو کښ او که چرے تابعداری کوئ تاسو دَ اللّٰہ تعالیٰ او دَرسول دَ هغه نو نیمګړے به نکړی ستاسو دَ عملونو نه هیڅ

بَّعْضُكُمْ بَعْضاً﴾ هرکله چه بعض انسان دَ چاعیب معلوم کړی نوبیا دغه عیب دَهغه پشی شاذکرکوی دَهغه دَے عزته کولودَپاره نوپه دے جمله کښ دَ هغے نه منع کوی دَحدیث صحیح مضمون دے چه "غیبت دا دے چه په یوسړی کښ څه نقصان موجودوی اوبل انسان ئے دَهغه په غائب والی کښ ذکرکوی اوهغه سړے پرے خفه کیږی او که عیب پکښ نه وی او ذکرکوی په عیب سره نو دا خوبهتان دے،، هغه هم ګناه کبیره دے۔ که یوسړے خپل عیب عیب نه ګڼړی او دَ هغے په ذکرکولو نه خفه کیږی نو هغه ذکرکول اوپه هغے باندے دَ حدودِ شرعیه دَلاندے ردکول غیبت نه دے اودامراد دے دَ قول دَ حسن بصری چه دَ بدعتی غیبت کول جائزدی ۔ او دارنګ هغه فاسق چه خپل فسق بنکاره کوی۔ اودارنګ مدعی لره جائزدی چه دَ مدعیٰ علیه هغه نقصان (دَقاضی په مخکښ) ذکرکړی چه دَ کوم په باره کښ دعویٰ کوی ځکه چه مقصد دَ مدعی (صادق) دَ هغه سړی خفه کول نه دی بلکه خپل حق ثابتول ئے مقصد اصلی دے اودارنګ په علم دَ اسماء رجال کښ دَ یوراوی عیبونه ذکرکول داغیبت نه دے ځکه چه په هغے کښ مقصد دَ هغے سړی خفه کول نه دی مراد بلکه دَ دین حفاظت دے او دارنګ دَ ظالم بادشاه دَ ظلم ذکرکول په دے مقصد چه دَ هغه دَ ظلم نه خلق بچ شی داهم غیبت نه دے په دے ټولو کښ قصد کول دَ خیر زیات دی دَ هغه سړی دَخفه کولونه ﴿اَيُحِبُّ اَحَدُكُمْ اَنْ يَّاْكُلَ لَحْمَ اَخِيْهِ مَيْتاً﴾ دا منع ده دَ غیبت کولونه په طریقه دَمثال اودَ تشبیه سره یعنی عزت دَ انسان ئے مشابه کړے دے دَ غوښے دَ بدن دَ هغه سره۔ ځکه چه کله دَ یوانسان عزت پریکیږی نودَ هغه زړه ته داسے درد رسیږی لکه چه درد رسیږی هغه ته دَ هغه دَ تن نه په غوښه پریکولو سره بیا حالت دَ غائب کیدلوئیے مشابه کړیدے دَحالت دَمرګ سره لکه چه مړے دَ انسانانودَ خبرونه خبرنه دے اونه دے اوری نودارنګ غائب انسان هم نه څه اوری اونه خبردے، اوپه لفظ دَ (مَيْتاً)، راوړلوکښ دفع دَیواعتراض ده که اوئیلے شی چه انسان ته خوپه بے عزتئ سره هله درد رسیږی چه دَ هغه مخامخ بے عزتی اوکړیشی لیکن چه پشی شا بے عزتی کول وی اوهغه خبرنه وی نو دَ هغه زړه ته خو درد نه رسیږی؟نو جواب ئے اوکړولکه چه دَ مړی دَ بدن نه غوښه پریکیږی او هغه ته خو درد نه رسیږی لیکن سرهٔ دَ دے نه دا دَ هغه بے عزتی ګڼړلے کیږی۔

[۱۳] په دے ایت کښ اووم ادب ذکرکوی چه سبب دَ اتحاد او اتفاق دے او دَ تفرق او دَ فسادنه دَبچ کیدلوخائسته طریقه ده حاصل دا دے (سرهٔ دَ ربط دَ ماقبل) نه چه یو انسان دَ بل انسان سپك والے او پخپله تکبر دَ دے وجے نه کوی چه زما جنس جدا دے نو دا غلطه ده ځکه چه ټول دَ یومور اوپلارنه پیدادی او یا

إِنَّ اللّٰهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿۱۴﴾ إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ آمَنُوا بِاللّٰهِ وَرَسُولِهِ ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوا

یقیناً اللّٰه تعالیٰ بخنه کوؤنکے رحم کوؤنکے دے (۱۴) یقیناً مؤمنان هغه کسان دی چه ایمان ئے راوړے دے په اللّٰه تعالیٰ او رسول دَ هغه باندے بیائے هیڅ شك نه دے کړے

به تکبّر دَ نسب دَ وجے نه کوی نو نسب بغیر دَ تقویٰ نه هیڅ سبب دَ عزت نه دے بلکه صرف دَ تعارف او دَ پیژندګلو دَپاره دے هاں عزت صرف په تقویٰ سره دے او متقی سړے دَبل چاسپك والے اوپخپله تکبرنه کوی بلکه دَ تقویٰ دَ وجے دَ تیرشوی ناکاره خصلتونونه ځان بچ کوی ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ﴾ په دے ادب کښ عام خطاب ئیے ذکرکړوځکه چه هم جنس کیدل اوتفاوت دَ نسبونوپه مؤمنانوپورے خاص ندے کافران هم ټول دَ آدم اوحواعلیها السلام اولاد دی اومختلف نسبونه پکښ شته دے ﴿مِن ذَكَرٍ وَأُنثَىٰ﴾ مراد دَ دے نه آدم اوحواء علیهما السلام دی ﴿شُعُوبًا﴾ جمع دَ شعب ده لرے نیکونوته وئیلے کیږی لکه چه په عربو کښ ربیعه، مضر،اوس،خزرج دی ﴿وَقَبَائِلَ﴾ جمع دَ قبیله ده دَ شعب نه لاندے نیکونو ته منسوب وی لکه چه کنانه یوقبیله ده ﴿لِتَعَارَفُوا﴾ دا حکمت دے دَپاره دَ تقسیم دَ نسبونو چه خپل نسبونه او پیژنئ او دَ هغے دَ وجے نه صله رحمی اوکړئے ـ حدیث دَ ترمذی کښ راغلی دی، چه رسول اللّٰه ﷺ فرمائیلی دی چه دَخپلو نسبونونه دومره ایزده کړئے چه صله رحمی پرے کوئے، داسکاره دلیل دے چه نسبونه دَپاره دَفخر او تکبّر او دپاره دَعزت اوشرافت نه دی نوفخرکول په نسب باندے داخوئي دَ جاهلیت والودے ﴿إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللّٰهِ أَتْقَاكُمْ﴾ یعنی دَ اللّٰه تعالیٰ په نیز سبب دَ اوچت والی دَ مرتبے اودَکرامت صرف تقویٰ ده۔ او قرطبی وئیلی دی چه تقویٰ دَ اللّٰه تعالیٰ دَ حدودو په امر اونهی کښ لحاظ کول دی اوځان بچ ساتل دَ هغے نه چه اللّٰه تعالیٰ دَ هغے نه نهی (منع) کړے ده۔ اولفظ دَ عِندَ اللّٰهِ کښ اشاره ده چه دَ خلقوپه نیز عزتمند کیدلوته اعتبار نیشته دَ اللّٰه تعالیٰ په نیز عزت حاصلول لوئے مقصد دے او أَتْقَاكُمْ، اسم تفضیل کښ اشاره ده چه دَ تقویٰ هم مختلفے مرتبے دی نوکرامت عند اللّٰه هم په تفاوت سره دے۔

[۱۴] ربط دَ دے دَمخکښ مضمون سره دا دے چه په دے اداوبذکرکړے شوؤباندے څوك عمل نه کوی صرف عملونه (مونځ اودس وغیره) کوی اودعویٰ دَ ایمان کوی نوهغه منافق دے په هغه باندے اعتبارمه کوئے اوربط دَ مخکښ ایت سره دا دے چه منافقانو وئیل چه زمونږنسب هم اوچت دے او ایمان والاهم یو اوتقویٰ خو په ایمان سره ده نو مونږ (دَ صحابه کرامونه) غوره یو نوپه دے ایت کښ دَ هغوی رد کوی اوزجردے په مجرّد دعویٰ دَ ایمان سره چه په حقیقت کښ ایمان نه وی صرف عمل وی نو هغے ته اعتبار نیشته ﴿وَلَٰكِن قُولُوا أَسْلَمْنَا﴾ مراد دَ دے ظاهری انقیاد اوبعضِ عملونه کول دی دَپاره دَحفاظت دَځانونو اومالونو خپلواودَپاره دَحصول دَغنیمتونواوزکوٰة اودا دلیل دے چه اسلام دوه قسمه دے اول صرف استسلام اوظاهری انقیاد دے بغیرَ تصدیق دَ زړه نه اودویم قسم انقیاد په ژبه اوزړه اواندامونوسره دے لکه په قول دَابراهیم علیه السلام کښ اسلمت لرب العالمین بقره (۱۳۱)اوان الدین عند اللّٰه الاسلام ال عمران (۱۹) اودا دلیل دے چه صرف اقرارپه امنا اوپه کلمه دَ توحید سره بغیر دَ تصدیق قلبی نه ایمان ، ایمان شرعی نه دے ـ خطیب شربینی نقل کړیدی چه عام خلق غفلت والاپه نن زنانه کښ په داسے حالت کښ دی۔

وَجٰهَدُوْا بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ اُولٰٓئِكَ هُمُ الصّٰدِقُوْنَ ﴿١٥﴾ قُلْ اَتُعَلِّمُوْنَ اللّٰهَ
بِدِيْنِكُمْ ؕ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿١٦﴾
يَمُنُّوْنَ عَلَيْكَ اَنْ اَسْلَمُوْا ؕ قُلْ لَّا تَمُنُّوْا عَلَيَّ اِسْلَامَكُمْ ۚ بَلِ اللّٰهُ يَمُنُّ عَلَيْكُمْ اَنْ هَدٰىكُمْ
لِلْاِيْمَانِ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿١٧﴾ اِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ غَيْبَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَاللّٰهُ بَصِيْرٌۢ بِمَا
تَعْمَلُوْنَ ﴿١٨﴾ ع ١٤

اوجهاد ئیے کړے دے په مالونو خپلو او نفسونو خپلو سره په لارهَاللّٰه تعالیٰ کښ دغه کسان دوی رشتینی دی (١٥) ته اُوایه ایا خبر ورکوئے تاسو اللّٰه تعالیٰ ته په دین خپل سره او اللّٰه تعالیٰ عالم دے په هغه څه چه په اسمانونو او هغه څه چه په زمکه کښ دی او اللّٰه تعالیٰ په هرځیز باندے پوهه دے (١٦) زبادنه کوی دوی په تا باندے چه دوی اسلام راوړے دے ته اُوایه زبادنه مه کوئے په ما باندے دَ اسلام ستاسو بلکه اللّٰه تعالیٰ زبادنه کوی په تاسوباندے دَ دے خبرے چه تاسوته ئے هدایت دَ ایمان کړیدے که چرے تاسو رشتینی ئے (١٧) یقیناً اللّٰه تعالیٰ پوهه دے په پټو ځیزو نو دَ اسمانونو او دَ زمکے او اللّٰه تعالیٰ لیدونکے دَ هغه کارونو دے چه تاسوئے کوئے (١٨)

[١٥] په دے ایت کښ ذکردَحقیقت دَ ایمان شرعی دے په رد دَمنافقانوکښ چه هغوی دعویٰ دَ ایمان کوی لیکن دروغژن دی په دے دعویٰ کښ ﴿ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوْا﴾ مراد دَ ارتیاب(شك) نه داسے عملونه کول دی چه علامت دَ کفر او دَشرك وی چه بعضِ دَهغے نه مخالفت کول دَ ادابودَ دے سورة دی ﴿وَجٰهَدُوْا بِاَمْوَالِهِمْ﴾ مراد دَ دے هرهغه محنت اوکوشش کول دی چه دَ ایمان په تقاضا سره وی او مال یا نفس پکښ خرچ کیږی ﴿اُولٰٓئِكَ هُمُ الصّٰدِقُوْنَ﴾ په دیکښ تعریض دے په هغه چا باندے چه دا شرطونه دَ ایمان په چاکښ موجود نه وی نو هغه په دعویٰ دَ ایمان کښ دروغژن دے۔

[١٦] دا زجردے منافقانوته یعنی هرکله چه دعویٰ دَ دوی په اَمَنَّا، سره دَ دروغوده نوپه اٰمنَّا وئیلوکښ دَ دوی دوه مقصدونه دی اول دا چه اللّٰه تعالیٰ ته خبر ورکوی په خپل ایمان سره دویم داچه په رسول اللّٰهﷺ باندے احسان اوزبادنه کوی نو په دے ایت کښ په اول مقصد دَ دوی باندے زورنه ورکوی۔

[١٧] دا بل زجردے دَ منافقانوپه دویم مقصد باندے چه په رسول اللّٰهﷺ باندے زبادنه کول دی۔ دلته ئے دَ اَسْلَمُوْا، ذکردَ دے وجے نه اوکړوچه دوی په بعضِ عملونوکښ دَنبیﷺ اوصحابه کرامو سره ظاهری شرکت کوؤلکه مونځ کول، جهاد کول وغیره اوبیا به ئے په نبیﷺ احسان خیژ وؤچه مونږستا ملګرتیا کوؤ۔ لکه اوس هم بعضِ ناپوهان په سنت طریقے یوکار اوکړی نو بیا په خپل مشربا استاذ باندے احسانونه خیژوی خطیب شربینی وئیلی دی "احسان زبادل چه دَ مخلوق دَ طرفنه وی نو نعمت خرکړی اوچه دَ اللّٰه دَ طرف نه وی نو نعمت مزیدارشی،، او دا ایت دلیل دے چه انسان ته په هره درجه کښ هدایت یا نعمت ملاؤشی نودَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه دِ اوګنړی او په هغے باندے دِ لوئي نه کوی ﴿اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ﴾ اشاره ده چه رشتینے ایمان نعمت دَ اللّٰه تعالیٰ دے۔

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سُوْرَةُ قٓ (۵۰) مَكِّيَّةٌ (۴۵) — اٰيَاتُهَا ۴۵ رُكُوْعَاتُهَا ۳

قٓ ۚ وَالْقُرْاٰنِ الْمَجِيْدِ ۝۱ بَلْ عَجِبُوْٓا اَنْ جَآءَهُمْ مُّنْذِرٌ مِّنْهُمْ فَقَالَ الْكٰفِرُوْنَ هٰذَا شَيْءٌ

ق ـ قسم دے په قرآن شرافت والا (۱) بلکه تعجب کوی دوی دَ دے نه چه راغلے دے دوی ته ویره ورکوؤنکے دَ دوی نه نو وائي کافران چه دا

(بقیه تفسیر دَ سورة الحجرات)

[۱۸] په دے کښ اشاره ده رد کولوته په منافقانو باندے یعنی اے منافقانو تاسوپه دعویٰ دَ ایمان کښ صادق نه ئے ځکه چه اللّٰه تعالیٰ په غیبوباندے عالم دے نوستاسوپه زړونو باندے هم عالم دے اوپه دے ایت کښ رد دے په شرك فی العلم باندے۔

سورة قٓ

دَ دے سورة نه ځلورم باب دے دَپاره دَ اثبات دَ قیامت اوپه دے کښ

ځلور سورتونه دی: قٓ، زاریات،طور او نجم۔

ربط : دَ دے سورة دَ مخکښ سورة سره په ځوطریقو دے اوله داچه هرکله اداب دَ اتحاد دَ مؤمنانو دَ پاره ذکرشول نو په دے سورة کښ دَ دغه ادابو دَ رعایت دَپاره تخویف ذکرکوی په راتللو دَیوم الخروج، یوم الوعید، یوم الخلود سره۔ دویمه طریقه هرکله چه ذکرشوچه کرامت په سبب دَ تقویٰ سره دے نو په دے سورة کښ ذکرکوی شان دَ متقیانو۔

دعویٰ دَ دے سورة: اثبات دَ بعث بعد الموت دے په ذکرد خروج دَمړودَ زمکے نه په (۱۱) او (۴۲) کښ اوپه عذابونو دُنیویه سره په تیرشوی قومونوباندے اواثبات دَتوحید دے په رد دَشرك فی التصرف والعلم اوپه ذکردَځلورواسماء حسنیٰ سره۔

خلاصه دَدے سورة دا ده: چه دے تقسیم دے دوه بابونوته اول باب تر (۱۶) پورے دے په دے کښ شهادت دَ قرآن ذکرکوی په اثبات دَ بعث بعد الموت باندے په (۱)کښ بیا زجرونه دی منکرینوته په (۲،۳،۵)کښ بیایودلیل عقلی علمی او درے دلیلونه عقلیه تصرفی علوی وسطی اوسفلی ذکرکوی دَپاره دَاثبات دَقیامت اوهردلیل مشتمل دے په درے درے ځیزونو باندے بیا دعویٰ دَسورة په (۱۱)کښ بیا ذکردَعذاب دے په تیرشوی منکرینوباندے دَپاره دَ تخویف دَ موجوده خلقوپه درے اياتونوکښ بیازجردے په (۱۵)کښ۔

تفسیر

[۱] ﴿قٓ﴾ دا دَمقطعاتونه دے په دے کښ دیروسورتونوکښ بحث تیرشویدے۔ په دے سورة کښ داسے الفاظ چه مشتمل دی په حرف دَ قاف باندے اته ځلویښت دی نو داهم وجه دَ مناسبت ده دَ حرف قاف سره په اول دَ دے سورة کښ۔ او ابن کثیر هغه قول ذکرکړے دے چه چا وئیلی دی چه مراد په دے سره

عَجِيْبٌ ۝۲ ءَاِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا ۚ ذٰلِكَ رَجْعٌۢ بَعِيْدٌ ۝۳ قَدْ عَلِمْنَا مَا تَنْقُصُ الْاَرْضُ مِنْهُمْ ۚ
وَعِنْدَنَا كِتٰبٌ حَفِيْظٌ ۝۴ بَلْ كَذَّبُوْا بِالْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ فَهُمْ فِيْٓ اَمْرٍ مَّرِيْجٍ ۝۵ اَفَلَمْ يَنْظُرُوْٓا

نا اشنا ځیز دے (۲) ایا هر کله چه مونږ مړه شو او شو مونږ خاورے نو دا واپسی دَ عقل نه لرے ده (۳) یقیناً پوهه یو مونږ په هغه چه کموی زمکه دَ دوی نه او زمونږ سره کتاب دے ساتونکے دَ عملونو دَ دوی (٤) بلکه دوی دروغژن ګڼری حق لره هر کله چه دوی ته راغے نو دوی په خبره ګډوډه کښ دی (٥) ایا نو دوی نه ګوری

کوهِ قاف غرِدے نوبیا ئے وئیلی دی چه دا دَ زنادِقو خبرے دی او په دے کښ چه کوم روایت دَ ابوحاتم رازی دے نو هغه اکثر منقطع دے غوره دا چه روستو ایت جواب قسم دے او (بَلْ) هم په جواب قسم کښ ذکر کیدلے شی او په معنیٰ دَ قد سره راځی۔

[۲] ﴿بَلْ عَجِبُوْٓا اَنْ جَآءَهُمْ مُّنْذِرٌ﴾ هر کله چه مقصد دَ سورة بعث بعد الموت ثابتول دی اودا مسئله دَ انذار(ویرے) ده دَ دے وجے نه صرف انذارئے ذکر کړو ﴿هٰذَا شَيْءٌ﴾ غوره دا ده چه هذا سره اشاره ده بعث بعد الموت ته لکه روستو ایت کښ ذکر کوی بعضِ علماؤ وئیلی دی چه اشاره ده توحید ته لکه سورة ص(٥) کښ اوبعضو وئیلی دی چه اشاره ده چه رسول بشردے ﴿عَجِيْبٌ﴾ کوم کارچه دَعادت دَخلقونه خلاف وی نوهغے ته دوی عجیبه اونا اشناوائي۔لیکن هر کله چه دَاللّٰه تعالیٰ په قدرتونوباندے فکراوکړے شی نودوباره ژوندی کول هیڅ نا اشنا کارنه دے نو دَ منکرانو دا تعجب کول بے ځایه دی۔

[۳] دا بیان دَ متعجب مِنه (چه دَ هغے نه تعجب ئے کوؤ) دے په تفصیل سره او دَپاره دَ تاکید دَ تعجب ئے همزه دَ استفهام انکاری په اول کښ راوړو ﴿بَعِيْدٌ﴾ مراد دَ دے نه لرے والے دَ عقل اوعادت نه۔

[٤] دا رد دے دَ دوی په تعجب اوانکارکولودَ بعث نه اودلیل عقلی علمی دے په بعث بعد الموت باندے یعنی هغه ذات چه عالم دے په ټولواجزاؤدَ هربدن باندے جُدا جُدا اودَ دوی په عملونوباندے نو هغه ضرورقادردے په دوباره اجزاء یوځائے کولواو ژوندی کولوباندے ﴿مَا تَنْقُصُ الْاَرْضُ مِنْهُمْ﴾ په دے کښ دَمفسرینوډیرتوجیهات دی یو دا چه ټول بدن خاورے اوخوری لیکن عجب الذنب (لکه لمے) نه خاورے کیږی اودا صحیح حدیث کښ هم راغلی دی ﴿وَعِنْدَنَا كِتٰبٌ حَفِيْظٌ﴾ مراد دَ کتاب نه هغه کتاب دے چه ملائکوپکښ عملونه دَ انسانانولیکلی دی نو دَ حفیظ معنیٰ دا چه دَ تمام عملونو حفاظت ئے کړیدے یا مراد دَ کتاب نه لوح محفوظ دے چه په هغے کښ دَ دوی نومونه اوعملونه وغیره لیکلے شویدی نوحفیظ په معنیٰ دَ محفوظ دے یعنی دَ شیطانانونه او دَ تغییر او تبدیل نه ساتلے شوے دے۔

[٥] په دے کښ زجردے په تکذیب دَ دوی په باره دَ قرآن کښ چه هغه خبر ورکړے دے دَ بعث نه او په دے کښ ترقی ده ځکه چه تکذیب غټ کفردے په نسبت دَ تعجب کولواودارنګ تعجب سبب دے دَپاره دَتکذیب ﴿بِالْحَقِّ﴾ مراد دَ حق نه قرآن یا رسول یا خبر دَ بعث بعد الموت دے ﴿مَرِيْجٍ﴾ مراد دا چه یوخبره باندے نه ټینګیږی بلکه وائي سحردے نوبیا وائی شعردے اوکله وائي کهانت دے نوکله وائی دروغ دی او خوبونه دی یا مراد دَ دے نه ګډوډ دین دے یعنی دَ مشرکانو دین ګډوډ دے۔

إِلَى السَّمَآءِ فَوْقَهُمْ كَيْفَ بَنَيْنٰهَا وَزَيَّنّٰهَا وَمَا لَهَا مِنْ فُرُوْجٍ ۝٦ وَالْاَرْضَ مَدَدْنٰهَا وَاَلْقَيْنَا فِيْهَا
رَوَاسِيَ وَاَنْۢبَتْنَا فِيْهَا مِنْ كُلِّ زَوْجٍۢ بَهِيْجٍ ۝٧ تَبْصِرَةً وَّذِكْرٰى لِكُلِّ عَبْدٍ مُّنِيْبٍ ۝٨ وَنَزَّلْنَا
مِنَ السَّمَآءِ مَآءً مُّبٰرَكًا فَاَنْۢبَتْنَا بِهٖ جَنّٰتٍ وَّحَبَّ الْحَصِيْدِ ۝٩ وَالنَّخْلَ بٰسِقٰتٍ لَّهَا طَلْعٌ نَّضِيْدٌ ۝١٠

اسمان ته د پاسه دَ دوی چه څه رنګ مونږ جوړ کړیدے اوډولی کړیدے او نیشته دَ دے چودل (٦) او زمکه اوګڼه غوړولے ده مونږ او اچولی دی مونږ پدیکښ پاڅه غرونه او زرغون کړیدی مونږ پدیکښ دَ هر قسم بوټونه تازه تازه (٧) دپاره دَ پوهه کولو او یاداشت دپاره دَ هر بنده دَ حق طلبګار (٨) او راوړلے دی مونږ دَ طرف دَ اسمان نه اوبه برکت والا نو زرغون کړیدی مونږ په سبب دَ هغے باغونه او دانے (چه بوټے) ئے لوکیدیشی (٩) او اونے دَ کجورو دنګے چه دَ هغے غونچکونه د ی لاندے باندے (١٠)

[٦] دَ دے ایت نه تریوڅلسم ایت پورے دلیلونه عقلیه افاقیه ذکرکوی دَپاره دَاثبات دَ بعث بعد الموت روستودَ ذکردَ تکذیب دَ دوی نه لکه چه روستودَ تعجب نه ئے یودلیل علمی ذکرکړے وڅونوپه دے ایت کښ دلیل عقلی علوی دے اومشتمل دے په درے څیزونوباندے ﴿فُرُوْجٍ﴾ مراد ترینه سورے کیدل اوچاؤدل دی۔ یعنی اجزاء دَ اسمان دَ یوبل سره پیوست اوهموار دی لیکن دا صفت دَ دے تررورځ دَفنا پورے دے په دلیل دَسورة مرسلات(٩) اوتکویر(١١) اوانفطار (١) اوانشقاق(١) سره۔

[٧] په دے ایت کښ دلیل عقلی سفلی دے اومشتمل دے په درے څیزونو باندے۔ دَ ورځ دَ قیامت دَ مدّ الارض، نه مراد دا دے چه داسے به ئے راکاږی چه غرونه اوکندے به دَ دے نه لرے شی ﴿زَوْجٍ﴾ اقسام دَ بوټومراد دی چه دَ یوبل سره په بعضِ صفتونو کښ مشابهت او موافقت لری اګرچه په نورو صفتونو کښ جُدا وی۔

[٨] په دے ایت کښ دَمخکښ دواړه دلیلونوفائدے ذکرکوی اوله فائده تَبْصِرَةً اودویمه ذِکریٰ، دا دواړه فائدے دَ اسمانونو او زمکے دواړوسره تعلق لری یعنی دواړه فائدے په اسمانونوکښ هم دی او په زمکه کښ هم دی۔ فرق په مینځ دَ دواړوکښ دادے چه تبصره هغه عبرت دے چه په نظرکولوسره حاصلیږی اوذکریٰ هغه نصیحت دے چه دَعقل اودَ زړه په ذریعه حاصلیږی یا تبصرةً دلیلونودَتوحید اوذِکریٰ دلیلونودَ بعث بعد الموت ته اشاره ده۔ اوپه مُنِیْبٍ کښ اشاره ده چه دافائدے په عناد اوضد کولوسره نه حاصلیږی بلکه هغه څوك چه دَشهواتونفسیانیونه اوګرځی حق طرف ته نوفائده اخستلے شی۔

[٩] دا بل دلیل دے دلیل عقلی وسطی اوداهم مشتمل دے په درے څیزونوباندے اول اِنزَال المَآءِ، یعنی بارانونه ورول دویم باغات پیداکول دریم غلے زرغونول ﴿مُبٰرَكًا﴾ هغه باران چه په هغے سره زمکه تازه شی اوفِضا صفاشی اومرضونه هم کم شی دَ دے قسم برکات په بارانونوکښ اللّٰه تعالیٰ پیداکړی دی۔ ﴿وَحَبَّ الْحَصِيْدِ﴾ مراد دَ دے نه غنم، وربشے، روڑے وغیره دی چه بوټی پس دَ اوچیدلونه لَوکړے شی او بیا دَ غوبل یا په نورو الاتوسره دَ هغے نه دانے را اویستلے شی۔

[١٠] دا بل دلیل عقلی وسطی دے ﴿وَالنَّخْلَ﴾ هرکله چه دَکجورے اوصاف اوفائدے دَنوروڅونونه ډیرے دی دَ دے وجے نه دائیے جدا ذکرکړه اودا دلیل هم په درے څیزونوباندے مشتمل دے یونخل۔ دویم باسقات، بسوق دنګ والی ته وئیلے کیږی او برابرته هم وئیلے کیږی اودریم لَهَا طَلْعٌ نَّضِيْدٌ میوے دَکجورے

رِّزْقًا لِّلْعِبَادِ ۙ وَاَحْيَيْنَا بِهٖ بَلْدَةً مَّيْتًا ؕ كَذٰلِكَ الْخُرُوْجُ ﴿۱۱﴾ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوْحٍ وَّاَصْحٰبُ
الرَّسِّ وَثَمُوْدُ ﴿۱۲﴾ وَعَادٌ وَّفِرْعَوْنُ وَاِخْوَانُ لُوْطٍ ﴿۱۳﴾ وَّاَصْحٰبُ الْاَيْكَةِ وَقَوْمُ تُبَّعٍ ؕ كُلٌّ كَذَّبَ الرُّسُلَ فَحَقَّ
وَعِيْدِ ﴿۱۴﴾ اَفَعَيِيْنَا بِالْخَلْقِ الْاَوَّلِ ؕ بَلْ هُمْ فِيْ لَبْسٍ مِّنْ خَلْقٍ جَدِيْدٍ ﴿۱۵﴾ وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ وَنَعْلَمُ

دپاره دَ روزئے دَ بندګانو او تازه کړیده مونږ په دے سره زمکه اوچه دغسے راوتل دی (دَ قبرونونه) (۱۱) دَ دروغو نسبت کړے وؤ دَ دوی نه مخکښ قوم دَ نوح(علیه السلام) او کوهی والو او ثمودیانو (۱۲) او عادیانو او فرعون او قوم دَ لوط(علیه السلام) او بنږوالو او قوم دَ تُبّع دے ټولو رسولانو ته دروغژن وئیلی وؤنو راغے په دوی باندے زما عذاب (۱٤) ایا مونږ سترې شوی یو په اول پیدائش باندے بلکه دوی په شك کښ دی دَ پیدائش نوی نه (۱۵) او یقیناً پیدا کړیدے مونږ انسان او پوهیږو

چه اول په یوبنده کسوړه کښ بنکاره شی اوبیا پرانستے شی نو هغے ته طلع وئیلے کیږی اونضید ورته مخکښ دَ بنکاره کیدلونه وئیلے کیږی۔

[۱۱] دا دَمخکښ دلیلونوتتمّه ده مشتمل ده په درے خیزونوباندے ﴿كَذٰلِكَ الْخُرُوْجُ﴾ دا دعویٰ دَسورة ده یعنی لکه چه دَزمکے نه باغات دانے بوټی روستودَ وچ والی دَ هغے نه اللّٰه تعالیٰ را اویستل نو داسے به تاسو په مختلف شکلونو صورتونو صفتونوسره دَ قبرونونه را اوباسی په ورځ دَ قیامت نودا اثبات دَ قیامت دے په قیاس کولو سره په بوټو راوتلو سره دَ زمکے نه پس دَوچ والی دَ هغے نه۔

[۱۲،۱۳،۱٤] دا تخویف دُنیوی دے په ذکردَ اته قوموونومکذبینوسره اودَ هغوی دَعذاب اجمالی په ذکرسره او ورسره تسلّی ده رسول اللّٰه ﷺ ته یعنی مخکنوپیرواوطاقت والاقوموندَبعث بعد الموت اودَ رسولانوتکذیب کړے وؤنوپه هغوی باندے عذابونه راغلل نو دارنګ داموجوده خلق هم دی په اول آیت کښ درے قوموته ذکرکړل قوم نوح، اصحاب الرس اوثمود اوپه دویم ایت کښ هم درے دی عاد، فرعون اواخوان لوط۔ دریم ایت کښ دوه دی اصحاب الایکة اوقوم تُبّع۔ دلته ئے اخوانِ لوط ذکرکړو دَدوی اخوت دَلوط(علیه السلام) سره صرف دَمساهرت(سخرګنئ) په وجه سره وواودے اخوت ته پوره اعتبارنیشته په نیزدَ عام خلقوباندے دَ دے وجے نه په نورو سورتونوکښ صرف قوم لوط وئیلے وؤاوپه دے سورة کښ اشاره وه دَ دوی نهایت جهل او سرکشئ ته چه دوی دَ خپلوئے (یعنی دَ خپل زوم) لحاظ هم اونکړو دَ هغه تکذیب ئے اوکړو۔

[۱۵] دا زجردے په انکاردَ بعث بعد الموت سرهٔ دَ اشارے نه دلیل ته چه قیاس دے په خَلقِ اول باندے اوپه دے زجرکښ اشاره ده چه دَتیرشوی قوموندَ تکذیب دَقیامت دَپاره هم هیڅ دلیل نه وؤدَ دے وجے نه دا زجرئے دَهغوی په تکذیب پسے ذکرکړو په دیکښ اشاره ده چه دَ دوی دَ انکاراوتکذیب دَپاره هیڅ دلیل نیشته په اصل کښ دَ دوی شك دے لیکن دَ ضد دَ وجے نه شك ئے انکارته رسولے دے۔

مَا تُوَسْوِسُ بِهٖ نَفْسُهٗ ۚ وَنَحْنُ اَقْرَبُ اِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ الْوَرِيْدِ ﴿۱۶﴾ اِذْ يَتَلَقَّى الْمُتَلَقِّيٰنِ عَنِ الْيَمِيْنِ وَ
عَنِ الشِّمَالِ قَعِيْدٌ ﴿۱۷﴾ مَا يَلْفِظُ مِنْ قَوْلٍ اِلَّا لَدَيْهِ رَقِيْبٌ عَتِيْدٌ ﴿۱۸﴾ وَجَآءَتْ سَكْرَةُ الْمَوْتِ بِالْحَقِّ ؕ

په هغه چه وسوسے اچوی دهٔ ته نفس دَ دهٔ او مونږ ډیر نزدے یو دهٔ ته دَ رګ دَ مرئے نه (چه زړه ته رسیږی) (۱۶) کوم وخت چه را اخلی دوه ملائك اخستونکی دَ ښی طرف او دَ ګس طرف نه (یویو) ناست دے (۱۷) نه اوباسی انسان دَ ځُلے نه څه خبره مګر دَ هغه په خوا کښ شته څوکے کوؤنکے تیار (۱۸) او راغلے سختئے دَ مرګ په رښتیا سره

[۱۶] دَ دے ایت نه دویم باب تراخرد سورة پورے دے۔ په دیکښ دلیل عقلی مختصردے بیا ذکر دَ حفاظت الاعمال دے په کتابت دَکراماً کاتبینو سره دَاثبات دَبعث او حساب دپاره بیا ذکردَحالت دَ نزع دے دَ تخویف دَپاره بیا تخویف اُخروی تفصیلی دے په لس طریقو سره اوشپږ صفات دَ اهل جهنم دی اوذکردَ قریناتواوذکردَحال دَجهنم تر(۳۰) پورے دے بیا بشارت دے په پنځوطریقوپه ذکردَپنځه صفتونودَا هل جنت تر(۳۵) پورے بیا تخویف دُنیوی اوترغیب قرآن ته اودلیل عقلی دَبعث بعد الموت په (۳۸)کښ بیا پنځه اوامردَپاره دَتشجیع دَ دعوت اوذکردَ اته احوالودَقیامت دے ترآخره پورے﴿وَنَحْنُ اَقْرَبُ اِلَيْهِ﴾ قرب دَاللّٰه تعالیٰ ښکاره معنیٰ ده لیکن دَهغے په کیفیت باندے مونږنه پوهیږودَ هغے تشبیه دَمخلوق سره نیشته اونه ئے تاویل کوواودا قربت دَ فوقیت دَعرش سره منافات نه لری ځکه چه اللّٰه تعالیٰ په هرڅه باندے قادردے﴿مِنْ حَبْلِ الْوَرِيْدِ﴾ وریدان دوه رګونه دی دَ څټ دَښی طرف او ګس طرف نه متصل دی دَسرنه تر وتین رګ پورے او وتین رګ دَ زړه دے چه دَ هغے په قطع کیدلوسره انسان مړ کیږی۔

[۱۷] په دے کښ ذکرکوی حال دَکراماً کاتبین دَپاره دَاثبات دَبعث بعد الموت یعنی دَ دے ملائکومقررکیدل اوعملونه لیکل دلیل دے چه اللّٰه تعالیٰ به ضرور ورځ دَجزاء اودَ حساب قائمه وی۔ حاصل دا چه ملائك چه تاسوباندے ناست دی دَ لیکلودَعملونودَپاره دَهغوی نه اللّٰه تعالیٰ زیات نزدے دے نوهغه دَملائکولیکلوته حاجت نه لری لیکن دا خوپه انسانانوباندے دَ حجت قائم کولودَپاره دی۔ او روایاتوسره ثابت شویدی چه دا دوه ملائك دَ ورځے او دوه دَ شپے وی اوښی طرف باندے لیکونکے دَنیکئے اوپه ګس طرف باندے لیکونکے دَبد اعمالو وی اولیکونکے دَحسناتو امین دے په لیکونکے دَ سیئاتوباندے او دوی ته کراماً کاتبین ملائك وئیلے کیږی ﴿قَعِيْدٌ﴾ نه مراد دَ دے لازم اوملګرے کیدل دی که ولاړوی اوکه ناست وی صرف کیناستل ترینه مرادنه دی۔

[۱۸] مخکښ تلقی اودوه طرفونه ئے ذکرکړل اوس دَ هغوی تیاری ذکرکوی یعنی هیڅ وخت غافل نه وی ﴿يَلْفِظُ﴾ یعنی وینا چه دَخولے نه اوباسی په خپل اختیارسره اوپه دیکښ اشاره ده چه کوم کلمات دَ خولے نه بے اختیاره اوځی نودَ هغے لیکل نه کوی هغه معاف دی ﴿مِنْ قَوْلٍ﴾ صحیح دا ده اقوال اواعمال دواړه لیکی لیکن قول ئے خاص ذکرکړوځکه چه په دے سورة کښ دَمنکرینواقوال په باره دَ قیامت کښ ذکرشویدی په (۲۰،۳)کښ نوپه دے کښ زجردے چه دا اقوال ستاسو لیکلے کیدیشی دَپاره دَ حساب کولو۔

ذٰلِكَ مَا كُنْتَ مِنْهُ تَحِيْدُ ﴿١٩﴾ وَنُفِخَ فِي الصُّوْرِ ۭ ذٰلِكَ يَوْمُ الْوَعِيْدِ ﴿٢٠﴾ وَجَاۗءَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَّعَهَا سَاۗىِٕقٌ وَّشَهِيْدٌ ﴿٢١﴾ لَقَدْ كُنْتَ فِيْ غَفْلَةٍ مِّنْ هٰذَا فَكَشَفْنَا عَنْكَ غِطَاۗءَكَ فَبَصَرُكَ الْيَوْمَ حَدِيْدٌ ﴿٢٢﴾ وَقَالَ

(نو اوبه وئیلے شی) دا هغه څیز دے چه ته دَ هغے نه تختیدلے (١٩) او پوکے به او کړیشی شپیلئ کښ دا ورځ دَ عذاب ده (٢٠) او رابشی هر نفس دَ هغه سره به وی چلوؤنکے او ګواهی کوؤنکے (٢١) یقیناً ته وے په غفلت کښ دَ دے نه نو لرے کړه مونږ ستانه پرده ستا نو نظر ستا نن تیز دے (٢٢) او اوبه وائي

[١٩] په دے ایت کښ تخویف دے په ذکردَ حالت دَ نزعے سره یعنی هرکله چه عملونه اولیکلے شواوعمریه ختمیدلوشی نو سختئے دَمرګ به شروع شی نودَ هغے نه غفلت نه دے پکار﴿سَكْرَةُ الْمَوْتِ﴾ یعنی دَ مرګ په وخت داسے سختی اوتکلیف راځی چه انسان پشان دَحالت دَسکر(دَنشے) وی خبرے ئے دَاعتدال اواختیارنه بهرشی ﴿ذٰلِكَ مَا كُنْتَ مِنْهُ تَحِيْدُ﴾ دا خطاب دے دَملائکو دَطرف نه هر انسان ته په وخت دَ نزع کښ۔

[٢٠] دَ دے ایت نه تر(٣٠) پورے تخویف اُخروی تفصیلی دے چه په هغے کښ شپاړس احوال ذکرکوی په دے ایت کښ دوه حالات ذکردی ﴿يَوْمُ الْوَعِيْدِ﴾ یعنی اللّٰه تعالٰی وعده دَ عذاب کړیده دَ منکرینوسره په دے ورځ کښ اودا یونوم دے دَ نومونودَ ورځ دَ قیامت نه۔

[٢١] په دے ایت کښ دوه حالتونه ذکرکوی اول دَ هرنفس راتلل میدان دَحشرته دویم هریونفس سره به سایق اوشهیدوی مراد دَ دواړونه ملائك دی چه یوبه ئے میدان حشراوبیا مقام دَجنت یا جهنم ته راولی۔ دَ جنتیانوسره به هم سایق وی چه دلالت کوی په هغے باندے سورة زمر(٧٣) اودَجهنمیانوسره به هم وی لکه سورة زمر(٧١) اودویم ملك به ورباندے شهادت کوی شهادت به دَ جنتیانودپاره کوی دَهغوی په نیکوعملونواوشهادت به په جهنمیانوباندے کوی دَهغوی په ناکاره عملونو باندے۔

[٢٢] په دے کښ هم دوه حالتونه ذکرکوی اول کشف دَغطاء (پرده لرے کول) دی اودویم تیزیدل دَنظردی ﴿غِطَآءَكَ﴾ مراد دَ دے نه هغه حالات دی چه منع کوؤنکی وؤ دَ ذکردَ اخرت نه چه هغه جهل اومحبت دَ دُنیا اوشهوات نفسانیه دی او سبب دَهغے غفلت وؤلکه سورة کهف (١٠١) کښ ذکردی۔ ﴿فَبَصَرُكَ الْيَوْمَ حَدِيْدٌ﴾ بصردَقلب مراد دے ځکه چه دَغفلت محل زړه دے نودَ غفلت په ازالے سره بصیرت دَ زړه راغے یا مراد دَ دے نه بصردَ سترګودے په مقابله دَغطاء کښ یعنی په ورځ دَ قیامت به جزا اوسزا دَ عملونواومیزان وغیره ته داسے نظرکوی چه هیڅ حاجت اومانع به مخے ته نه وی۔ سوال: په سورة طٰهٰ (١٢٤) اوسورة اسراء (٧٢) کښ معلومیږی چه دَقیامت په ورځ به دوی راندهٔ وی نودَ دے ایت سره ئے تعارض معلومیږی؟ جواب: دَابن عباس رضی اللّٰه عنهما نه نقل دی چه داپه مختلفواوقاتوباندے حمل دی بعضِ وخت به راندهٔ وی اوبعضِ وخت به ئے نظر تیزوی۔ دویم جواب دا دے چه په هغه اياتونو کښ مراد دَ عمی نه عدم دلیل اوحجت دے یعنی بے دلیله به وی۔

قَرِيْنُهٗ هٰذَا مَا لَدَيَّ عَتِيْدٌ ﴿٢٣﴾ اَلْقِيَا فِيْ جَهَنَّمَ كُلَّ كَفَّارٍ عَنِيْدٍ ﴿٢٤﴾ مَّنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ مُعْتَدٍ مُّرِيْبِ ﴿٢٥﴾
الَّذِيْ جَعَلَ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ فَاَلْقِيٰهُ فِي الْعَذَابِ الشَّدِيْدِ ﴿٢٦﴾ قَالَ قَرِيْنُهٗ رَبَّنَا مَآ اَطْغَيْتُهٗ وَلٰكِنْ
كَانَ فِيْ ضَلٰلٍ بَعِيْدٍ ﴿٢٧﴾ قَالَ لَا تَخْتَصِمُوْا لَدَيَّ وَقَدْ قَدَّمْتُ اِلَيْكُمْ بِالْوَعِيْدِ ﴿٢٨﴾ مَا يُبَدَّلُ الْقَوْلُ لَدَيَّ
وَمَآ اَنَا بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ ﴿٢٩﴾ ع يَوْمَ نَقُوْلُ لِجَهَنَّمَ هَلِ امْتَلَاْتِ وَتَقُوْلُ هَلْ مِنْ مَّزِيْدٍ ﴿٣٠﴾ وَاُزْلِفَتِ

ملګرے دَ دهٗ دا هغه څیز دے چه ما سره دے تیار (٢٣) (اوبه وئیلے شی) اوغورځوئ په جهنم کښ هر کفر کوؤنکے عناد کوؤنکے (٢٤) منع کوؤنکے دَ خیر دَ حدنه تیریدونکے شك والا (٢٥) هغه چه ګنړی دَ اللّٰه تعالیٰ سره بل حقدار دَ بندګئے نو واچوئے دهٗ لره په عذاب سخت کښ (٢٦) اوبه وائي ملګرے دَ دهٗ اے ربه زمونږ مانه دے ګمراه کړے دهٗ لره لیکن دے وؤیه ګمراهئ لرے کښ (٢٧) او به وائي اللّٰه تعالیٰ جګړے مه کوئے زما په مخکښ اوحال دا چه مخکښ خبر درکړے وؤ ما تاسوته دَ عذاب(٢٨) نشی بدلیدلے وینا زما په خوا کښ اوځه نه یم ظلم والا په بندګانو باندے (٢٩) کومه ورځ چه اوبه وایو جهنم ته ایا ته ډك شوے او هغه به اُوائي ایا څه زیات شته دے (٣٠) او نزدے به کړے شی

[٢٣] په دے ایت کښ یوحال ذکرکوی چه هغه شهادت دَقرین دے اودَ اکثرمفسرینوپه نیزمراد دَ دینه مقررملائك (کراماً کاتبین) دی چه هغوی به دَ هرچا عملنامے تیارے حاضرے کړی۔ اودَ بعض مفسرینو په قول کښ مراد دَ قرین نه شیطان دے۔

[٢٤،٢٥،٢٦] په دے ایاتونوکښ دوه حالتونه ذکرکړیدی(١) القاء په جهنم کښ (٢) القاء په سخت عذاب کښ اودَ جهنمی شپږصفات قبیحه ئے ذکرکړی دی ﴿اَلْقِيَا﴾ صغیه دَ تثنیه ئے ذکرکړیده دوه ملائك دی سایق اوشهید هغوی ته خطاب دے چه یوبه ئے دَسرنه اوبل به ئے دَځپونه اونیسی لکه په سورة رحمٰن(٤١) کښ دی ﴿عَنِيْدٍ﴾ یعنی دَکفرسره ئے عنادیوځائے شویدے نوعنادکول ډیروګناهونولره متضمن دے لکه انکار، حسد، تکبر، اذراء دَ حق اواهل حق (سپك ګنړل) او غیرت په باطل باندے ﴿مَّنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ﴾ اشاره ده چه داشخص ضال اومضل دواړه صفتونه لری ﴿لِّلْخَيْرِ﴾ توحید، سنت، قرآن، انفاق دَمال فی سبیل اللّٰه تعالیٰ او ټولوحقوقو واجبوته شامل دے ﴿مُعْتَدٍ﴾ کښ اشاره ده چه حقوق العبادهم ضائع کوی په ظلم کولوسره۔

[٢٧] په دے ایت کښ دوه حالتونه ذکرکوی(١) انکار دَ قرین دَګمراه کولونه (٢) اوګمراهی دَ دغه انسان دلته دَ قرین نه مراد شیطان دے۔

[٢٨] په دے کښ هم یوحال ذکرکوی معلومه شوه چه مخکښ دَ ګمراهانو او دَ انسی جنی شیطانانو په مینځ کښ به په یوبل باندے دعوے کول وی نواللّٰه تعالیٰ به هغوی لره منع کړی په دے قول سره چه ﴿لَا تَخْتَصِمُوْا لَدَيَّ﴾ یعنی په واسطه دَ رسولانواوداعیانودَ حق سره خبرونه دَعذاب مادرلیږلی وونو ستاسو هیڅ عذرنه دے پاتے شوے بلکه په تاسوباندے حجت قائم کړے شوے دے۔

[٢٩] په دے ایت کښ هم دوه حالتونه ذکرکړی دی ﴿وَمَآ اَنَا بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ﴾ یعنی ستاسودَ اختصام هیڅ فائده نیشته ځکه چه زما په دربارکښ ظلم کول نیشته اواختصام خودَ دے مقصد دَپاره وی چه حاکم

الْجَنَّةُ لِلْمُتَّقِيْنَ غَيْرَ بَعِيْدٍ ﴿۳۱﴾ هٰذَا مَا تُوْعَدُوْنَ لِكُلِّ اَوَّابٍ حَفِيْظٍ ﴿۳۲﴾ مَنْ خَشِيَ الرَّحْمٰنَ بِالْغَيْبِ
وَجَآءَ بِقَلْبٍ مُّنِيْبِ ﴿۳۳﴾ ادْخُلُوْهَا بِسَلٰمٍ ؕ ذٰلِكَ يَوْمُ الْخُلُوْدِ ﴿۳۴﴾ لَهُمْ مَّا يَشَآءُوْنَ فِيْهَا وَلَدَيْنَا مَزِيْدٌ ﴿۳۵﴾

جنت متقیانو ته نه به وی لرے (۳۱) دا هغه څیز دے چه تاسو سره ئیے وعده کیدیشی هر توبه کوؤنکی دپاره چه ساتنه کوؤنکے دے (۳۲) هغه څوك چه ویره کوی دَ رحمان ذات نه په حال دَنه لیدلو کښ او راغلے وی په زړه حق ته ګرځیدونکے (۳۳) (اوبه وئیلے شی) داخل شئے جنت ته په سلامتیا سره دا ورځ دَ همیش والی ده (۳٤) دوی لره به هغه څه وی چه دوی غواړی په هغے کښ او زمونږ سره شته زیاتی (۳۵)

په عدل سره فیصله اوکړی اوالله تعالیٰ خوهر وخت عدل کوؤنکے دے۔

[۳۰] په دے ایت کښ هم دَتخویف اُخروی نه دوه حالتونه ذکرکوی(۱) دَجهنم ډکیدل(۲) طلب دَ زیاتی ﴿هَلِ امْتَلَاْتِ﴾ په دے کښ خبرورکول دی جهنمیانوته په وسعت دَجهنم سره چه دا څوك ګمان اونه کړی چه جهنم کښ دومره ډیرخلق به څنګه زائیږی؟ اکثرمفسرینو وئیلی دی چه دا استفهام طلبی دے یعنی طلب دَزیاتوخلقوکوی نواشاره ده چه ډك شوے به نه وی نواعتراض داکیدے شی چه وعده دَ الله تعالیٰ خوپوره نه شوه نوجواب ته په هغه حدیث کښ اشاره ده چه جهنم اُوائي هل من مزید نورب العزت به خپل قدم په هغے کښ کیدی نوبعضِ اجزابه دَبعضو سره جوخت شی او اوبه وائي بَس بَس ستا په عزت اوکرم باندے قسم دے۔ (اوقدم په معنیٰ ظاهری سره دَ الله تعالیٰ دَپاره ثابت دے اوکیفیت ئیے الله تعالیٰ ته معلوم دے تشبیه تمثیل اوتاویل کول ئیے جائزنه دی اودا مذهب دَسلف صالحینودے۔)

[۳۱] دَ دے ایت نه تر(۳۵) پورے بشارتِ اخرویه دے په ذکرد اوؤ احوالودَ جنت اوپنځه صفاتودَ اهل جنت سره۔ په دے ایت کښ دوه حالات دَجنت ذکردی(۱) ازلفت (۲) غیربعید اویوصفت دَجنتیانو ذکردے ﴿اُزْلِفَتِ﴾ یعنی جنت به په میدان حشرکښ رانزدے کړیشی متقیانوته دا دَ دوی دَاکرام اودَعزت دَپاره ځکه چه دوی ته دَمزل کولوتکلیف محسوس نه شی۔

[۳۲] په دے کښ یوحال دَجنت اودوه صفتونه دَ جنت والوذکردی۔ هٰذا اشاره ده جنت ته په تاویل دَمکان دَ نعمتونو ﴿مَاتُوْعَدُوْنَ﴾داوعده دَالله تعالیٰ دَطرف نه په قرآن کریم کښ په هغه ایاتونوکښ ذکرده چه په تقویٰ سره جنت حاصلیږی اوهغه ډیر ایتونه دی ﴿اَوَّابٍ﴾ هغه څوك دے چه دَګناه نه ئیے توبه کړے وی لیکن چه ورته یادشی نوبیاهم استغفارغواړی او تسبیح هم ډیره وائي۔ اوپه اختتام دَهرمجلس کښ داکلمه وائي۔ سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهٖ اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْتَغْفِرُكَ وَاَتُوْبُ اِلَيْكَ ﴿حَفِيْظٍ﴾ حفاظت کوؤنکے دَ الله تعالیٰ دَحقوقواودَ اوامرویا یا د ساتونکے دَ ګناهونو خپلو دَپاره دَ دے چه استغفارترینه کوی یا حفاظت کوؤنکے دَ عمر خپل چه خپل اوقات نه ضائع کوی۔

[۳۳] په دے کښ دَمتقیانودوه صفتونه ذکرکوی۔ تیرشوی صفتونه عباداتِ لسانیه وواوداصفتونه عبادات قلبیه دی (۱) خشیت (۲) انابت ﴿مَنْ خَشِيَ﴾ خَشیت خاص دے دَخوف نه ځکه چه خشیت کښ معنیٰ دَتعظیم دَ مخشی عنه وی سرهٔ دَ خوف نه دَ دے وجے نه لفظ دَالرحمٰن ئیے ذکرکړو دپاره دَ افادے دَ عظمت شان دَ هغه ﴿بِالْغَيْبِ﴾ یعنی الله تعالیٰ ئیے لیدلے نه دے بلکه دَ عقلی اونقلی او وحی

وَكَمْ اَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ مِّنْ قَرْنٍ هُمْ اَشَدُّ مِنْهُمْ بَطْشًا فَنَقَّبُوْا فِى الْبِلَادِ ؕ هَلْ مِنْ مَّحِيْصٍ ﴿۳۶﴾ اِنَّ
فِىْ ذٰلِكَ لَذِكْرٰى لِمَنْ كَانَ لَهٗ قَلْبٌ اَوْ اَلْقَى السَّمْعَ وَهُوَ شَهِيْدٌ ﴿۳۷﴾ وَلَقَدْ خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ وَ

او ډیر هلاك کړی دی مونږ دَ دوی نه مخکښ پیړۍ چه هغوی سخت وؤ دَ دوی نه په نیولو کښ نو ورننوتلی وؤ په ښارونو کښ ایا شته دے ځائے دَ تیښتے (۳۶) یقیناً په دے کښ ضرور نصیحت دے هغه چاڅه چه هغه لره عقل وی یاږدی غوږ او زړه ئے حاضروی (۳۷) او یقیناً پیدا کړیدی مونږ اسمانونه او

دلیلونوپه وجه سره په اللّٰه تعالیٰ باندے ایمان لری ﴿وَجَآءَ بِقَلْبٍ مُّنِيْبٍ﴾ اومراد دَ جَآءَ توجه کول دی اللّٰه تعالیٰ ته په دُنیا کښ۔

[۳٤] دا بشارت دے په دوه حالتونوسره تیرشوی صفتونووالوته ﴿بِسَلٰمٍ﴾ سلامتیا دَ عذابونواوهرقسم غمونونه اوسلام وئیل دَ طرف دَ اللّٰه تعالیٰ اوملائکو نه دے ټولوته دا لفظ شامل دے۔

[۳۵] په دے ایت کښ هم بشارت دے په ذکرد دوه حالتونوسره ﴿مَزِيْدٌ﴾ مراد ترینه هغه نعمتونه دی چه دَ دوی په زړه کښ هم نه وی تیرشوی او هغه دیدن دَ اللّٰه تعالیٰ دے په ډیراکرام اوعزت سره لکه چه احادیثو مرفوعه کښ ذکر دے او دارنګ خاص قسم حورے دی۔

[۳٦] دا تخویف دُنیوی دے متعلق دے دَ(۱۲)سره۔ اودَ بشارت نه ئے روستوذکرکړومناسبت ئے دا دے چه تیرشوی صفات دَ متقینوپه چاکښ نیشته نوهغوی په دنیاکښ هم تباه حاله دی﴿اَشَدُّ مِنْهُمْ بَطْشًا﴾ قوت مالی اوبدنی اودَهغے وجے نه په خلقوباندے ظلم کولوته دا لفظ شامل دے اوپه دیکښ اشاره ده چه په مادی او دنیوی طاقتونو سره دَ عذاب دَ اللّٰه تعالیٰ نه بچ کیدل نشی کیدے ﴿فَنَقَّبُوْا فِى الْبِلَادِ﴾ مراد دا دے چه په دُنیاکښ ګوټ په ګوټ باندے په ډیروښارونوکښ دَ تجارتونو اومالونودَپاره ګرځیدلی وؤیا قِسم قِسم حیلے ئے لټولے وے دَمرګ نه دَ بچ کیدلودَپاره سرنګونه، تاخانے، مورچے ئے دَخپل حفاظت دَپاره جوړے کړے وے۔

[۳۷] په دے ایت کښ ترغیب دے قرآن ته اودے سورۃ ته ځکه چه ذالك اشاره ده ټول قرآن ته یا هغه مضمون ته چه په دے سورۃ کښ ذکرشویدے یا اشاره ده من قرنٍ ته۔ ربط هرکله چه تیرشوی ایت کښ هلاکت دَ اقوام مکذبه ته ئے اشاره اوکړه نوپه دے ایت کښ دَهغه قومونودَ واقعاتونه ذکری (عبرت) حاصلولودَپاره طریقه ذکرکوی۔ اوله طریقه ﴿لِمَنْ كَانَ لَهٗ قَلْبٌ﴾ مراد دَ قلب نه عقل دے په ذکرد محل او مراد ترینه حال دے اودا قرطبی دَ مجاهدنه روایت کړے دے یا مراد دَ دے نه ژوندے زړه دے۔ ﴿اَوْ اَلْقَى السَّمْعَ وَهُوَ شَهِيْدٌ﴾ دا دویمه طریقه ده غوګ کیخودل په داسے طریقے سره چه بل څه خبره په هغے باندے نه اوری دیته القاء السمع وائی ګویا دَ قرآن اوریدل داسے دروند او لوئے کارګنړی چه غوګ ئے ورله ځکته غورځولے دے، وَهُوَ شَهِيْدٌ، مراد دے نه توجه دَ زړه ده ځکه چه صرف کیخودل دَغوګ کافی نه دی ترڅو پورے چه دَ زړه توجه نه وی۔

فائده: قرآن نه دَ وعظ اوفائدے اخستلو دَپاره دوه درجے دی اوچته درجه دا ده چه انسان په قرآن کښ تدبر اوسوچ کوی۔ دویمه درجه داده چه خه په توجه دَ زړه سره دَ بل چانه ئے اوری۔ اوله درجه دَ اجتهاد ده او دویمه درجه دَ اتباع ده او دَدے نه چه چا دَ تقلید اثبات کړے دے نوهغه دَ تقلید دَ معروفے معنے نه

الْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِيْ سِتَّةِ اَيَّامٍ ۖ وَّمَا مَسَّنَا مِنْ لُّغُوْبٍ ﴿۳۸﴾ فَاصْبِرْ عَلٰى مَا يَقُوْلُوْنَ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ
رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ الْغُرُوْبِ ﴿۳۹﴾ وَمِنَ الَّيْلِ فَسَبِّحْهُ وَاَدْبَارَ السُّجُوْدِ ﴿۴۰﴾ وَاسْتَمِعْ يَوْمَ

زمکه او هغه چه دَ دے په مینځ کښ دی په شپږ ورځے کښ اونه دے رسیدلے مونږ ته هیڅ ستړے والے (۳۸) نو صبر کوه په هغه خبرو باندے چه دوی وائي او تسبیح وایه سره دَ حمد دَ رب ستانه مخکښ دَ ختلو دَ نمر نه او مخکښ دَ پټیدلو دَ نمر نه (۳۹) او دَ شپے نه تسبیح وایه دَ هغه او روستو دَ سجدے کولونه (٤٠) او غوږ کیده هغه ورځ

جاهل دے یا تلبیس او تحریف کوی (العیاذ باللّٰه)۔

[۳۸] دا دلیل عقلی دے دَ اثبات دَ قیامت دَپاره (ربط) یعنی اول خودَ قرآن نه ذکریٰ اونصیحت اخستل دی اوپه هغے پسے دَ عقلی دلیلونودَ اسمان اوزمکے نه استدلال کول دی ﴿وَمَا مَسَّنَامِنْ لُّغُوْبٍ﴾ په دے کښ رد دے په وهم دَمنکرینودَ بعث بعد الموت باندے یعنی دا وهم دِ څوك نه کوی چه اللّٰه تعالیٰ به په اول پیدائش باندے ستړے شویوی نودویم کرت پیدائش نه شی کولے اودارنګ رد دے دَ یهودیانو په قول باندے هغوی وائي چه اللّٰه تعالیٰ دَ اتوار دَ ورځے نه ترجمعے ورځ پورے په پیدائش کښ مشغول وو نو دَ خالی په ورځ ئے استراحت او آرام اوکړو۔

[٤٠،۳۹] دَ دے نه تر اخره پورے پنځه اوامرذکرکوی دَپاره دَ تشجیع دَ دعوت کوؤنکی په دے دوه ایاتونو کښ درے اوامر دی۔ په دے ترتیب کښ اشاره ده چه دَ داعی په ذمه باندے دعوت کول دی اوهرکله چه په دعوت کښ رکاوټ پیداشی نوبیا صبرکول اوپه بندګئ دَ اللّٰه تعالیٰ کښ مشغولیدل دی اوصبر اوتسبیح حمد ذریعه ده دَپاره دَ اسانتیا دَدعوت کولو﴿عَلٰى مَا يَقُوْلُوْنَ﴾ دا عام دے قول دَیهودیانوته هم شامل دے کوم چه مخکښ ذکرشو اوقول دَ منکرینودَ بعث بعد الموت ته هم چه دَ سورة په ابتداکښ ذکرشویدے اودارنګ په نبی ﷺ باندے طعنونه کول او هغه ته کنځل کول دے ټولوته شامل دے ﴿قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ الْغُرُوْبِ﴾ وخت دَ فجراو وخت دَعصرته اشاره ده دا دوه ئے مخکښ ذکرکړل دَ وجے دَ ډیر فضیلت اواهمیت دَ دے دواړونه لکه چه ډیرواحادیثوصحیحه کښ دَ دے دواړوفضیلتونه ذکردی اودا وختونه دَ اجتماع دَ ملائکو دَ شپے او دَ ورځے دی۔ اوپه دویم ایت کښ امرپه تسبیح سره په دوه وختونو کښ ذکرشویدے ۔اللیل او ادبارالسجود، نو مراد دَ اللیل نه وخت دَ مابنام او ماسخوتن دے او وخت دَ تهجد هم پکښ داخل دے او دا رنګ دَ شپے په هرحصّه کښ چه بیدارشی اودَ اللّٰه تعالیٰ تسبیح اوحمد وائي هغے ته هم شامل دے ﴿وَاَدْبَارَالسُّجُوْدِ﴾ دَ اکثرصحابه اوتابعینونه روایت دے چه مراد دَ دے نه دوه رکعتونه سنت روستو دَ فرض دَ مابنام نه دی او ابن کثیرپه دے کښ روایت مرفوع هم نقل کړے اودویم قول دا دے چه مراد دَ دے نه په هرفرض مونځ پسے سبحان اللّٰه والحمد اللّٰه او اللّٰه اکبرلوستل دی۔

يُنَادِ الْمُنَادِ مِنْ مَّكَانٍ قَرِيْبٍ ﴿۴۱﴾ يَّوْمَ يَسْمَعُوْنَ الصَّيْحَةَ بِالْحَقِّ ؕ ذٰلِكَ يَوْمُ الْخُرُوْجِ ﴿۴۲﴾ اِنَّا نَحْنُ
نُحْيٖ وَنُمِيْتُ وَاِلَيْنَا الْمَصِيْرُ ﴿۴۳﴾ يَوْمَ تَشَقَّقُ الْاَرْضُ عَنْهُمْ سِرَاعًا ؕ ذٰلِكَ حَشْرٌ عَلَيْنَا يَسِيْرٌ ﴿۴۴﴾
نَحْنُ اَعْلَمُ بِمَا يَقُوْلُوْنَ وَمَآ اَنْتَ عَلَيْهِمْ بِجَبَّارٍ ۫ فَذَكِّرْ بِالْقُرْاٰنِ مَنْ يَّخَافُ وَعِيْدِ ﴿۴۵﴾ ع ۳ ۱۵

چه اواز به اوکړی اواز کوؤنکے دَ مکان نزدے نه (٤١) هغه ورځ به دوی اوری چغه په رشتیا دا ورځ ده دَ راوتلو (دَقبرونونه) (٤٢) یقیناً مونږ ژوندی کول او مړه کول کوؤ او خاص مونږ ته راګرځیدل دَ خلقو دی (٤٣) په هغه ورځ چه اوبه چوی زمکه دَ دوی نه منلے به وهی دا راجمع کول دی په مونږ باندے اسان (٤٤) مونږ ښه پوهه یو په هغه خبرو باندے چه دوی وائي او نه ئے ته په دوی باندے زور کوؤنکے نو بیا نوه قرآن هغه چاته چه ویره کوی دَ عذاب زما نه (٤٥)

[٤٢،٤١] داځلورم امردے داعی ته مراد ترینه انتظارد ورځ دَقیامت دے دَپاره دَحساب ﴿وَاسْتَمِعْ يَوْمَ يُنَادِ﴾ مراد دَ استماع نه انتظارکول دی یعنی دَ ورځ دَ قیامت انتظار اوکړه یا استماع په خپله معنیٰ ده یعنی غوږ کیده حالاتو دَ هغه ورځ ته ﴿مِنْ مَّكَانٍ قَرِيْبٍ﴾ یعنی هرانسان به دا اوازداسے اوری لکه چه هغه ته نزدے وی ﴿يَوْمَ يَسْمَعُوْنَ الصَّيْحَةَ﴾ الصَّيْحَة نه مراد دویمه شپیلے ده دَپاره دَبعث بعدالموت په قرینے دَالخُرُوج سره ﴿يَوْمُ الْخُرُوْجِ﴾ هغه خروج چه په (١١) کښ ذکرکړے وو۔ اودا نوم دَ ورځ دَ قیامت دے۔ اوپه دے ایاتونوکښ دَ ورځ دَ قیامت څلور احوال ذکرکړی دی۔

[٤٤،٤٣] په دے ایاتونوکښ دَ قیامت نورځلورحالات ذکرکوی۔ اوپه دے کښ اثبات دَقیامت دے یعنی په احیاء اواماتت باندے قادردے نوپه دوباره ژوندی کولوخوضرورقادردے ﴿يَوْمَ تَشَقَّقُ الْاَرْضُ عَنْهُمْ سِرَاعًا﴾ یعنی داعی طرف ته به په منډه سره ورځي لکه سورة ابراهیم (٤٣)سورة قمر(٨) اوسورة معارج (٤٣) کښ دی۔

[٤٥] دا تسلّی ده رسول اللّٰهﷺ ته په دوه طریقوسره اول دا چه ﴿نَحْنُ اَعْلَمُ بِمَا يَقُوْلُوْنَ﴾ یعنی دامنکرین چه انکارکوی ستاتکذیب کوی یاتاته بده ویناکوی نواللّٰه تعالیٰ ته دَ هغے ښهٔ علم شته عذاب ورکولے شی لیکن ستا امتحان کوی ﴿وَمَآ اَنْتَ عَلَيْهِمْ بِجَبَّارٍ﴾ جمله خبریه په خپله معنیٰ سره ده یعنی ته په دوی باندے زور نشے کولے چه ایمان راوړی او دارنګ ته په جبرکولوسره مکلف خونه ئے نودَ دوی په ایمان راوړلوسره په تا باندے ګناه نیشته ﴿فَذَكِّرْ بِالْقُرْاٰنِ﴾ دا پنځم امردے یعنی دَ داعی په ذمه باندے جبرکول خونیشته لیکن دعوت اوتبلیغ دَ دهٔ ذمه واری ده۔ دَ دے نه مراد صرف تلاوت او قرائت دَ قرآن نه دے بلکه په قرآن بیانولوسره توحید او دَ قیامت مسئلے واضح کول دی اودا تذکیر په طریقه دَ دعوت تبلیغ او درس وتدریس سره دے۔ معلومه شوه چه تذکیربالقرآن ډیرلوئے عمل دے چه اللّٰه تعالیٰ په هغے خپل نبی لره باربار مخاطب ګرځولے دے ﴿مَنْ يَّخَافُ وَعِيْدِ﴾ تخصیص دَد ے په اعتبارد فائدے اخستلوسره دے دَ قتاده نه روایت کړے شوے دے چه هغه به وئیل۔ اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنَا مِمَّنْ يَّخَافُ وَعِيْدَكَ وَيَرْجُوْا مَوْعُوْدَكَ يَابَارُّ يَارَحِيْمُ۔

سُوْرَةُ الذّٰرِيٰتِ (۵۱) مَكِّيَّةٌ (۶۰) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۶۰ رُكُوْعَاتُهَا ۳

وَالذّٰرِيٰتِ ذَرْوًا ۝۱ فَالْحٰمِلٰتِ وِقْرًا ۝۲ فَالْجٰرِيٰتِ يُسْرًا ۝۳ فَالْمُقَسِّمٰتِ اَمْرًا ۝۴ اِنَّمَا تُوْعَدُوْنَ لَصَادِقٌ ۝۵ وَّاِنَّ الدِّيْنَ لَوَاقِعٌ ۝۶ وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الْحُبُكِ ۝۷ اِنَّكُمْ لَفِيْ قَوْلٍ مُّخْتَلِفٍ ۝۸ يُّؤْفَكُ عَنْهُ

قسم دے په هواګانو الوځوؤنکو په الوځولو سره (۱) بیا پورته کوؤنکے بوج لره (۲) بیا چلیدونکی په اسانه سره (۳) بیا تقسیم کوؤنکے کارونو لره (٤) یقیناً هغه چه تاسو سره ئیے وعده کیدیشی ضرور رشتیا دے (۵) او یقیناً جزا ضرور واقع کیدونکے ده (٦) او قسم دے په اسمان باندے چه ګنړو ستورو والا دے (۷) یقیناً تاسو په خبره مختلفے کښ ئیے (۸) اړولے شی دَ دے نه

سورة الذّٰريٰتِ

ربط: دَ دے سورة دَ مخکښ سره دا دے چه په دیکښ دَ مخکښ نه ترقی ده په ډیرو وجوسره اوله وجه داچه هلته کښ کذلك الخروج ذکرکړے وونودلته انما توعدون لصادق دے دا ترقی ده په دعویٰ دَ بعث بعد الموت کښ۔ دویمه وجه هغه سورة کښ وؤوسبح بحمد ربك اوپه دے سورة کښ ففروا الی اللّٰه دے دا ترقی ده په دعویٰ دَتوحید کښ، دریمه وجه هلته کښ خلق دَ انسان ئیے ذکرکړے دے اودلته حکمت دَ خلق دَ انسانانوذکردے۔ څلورمه وجه، په هغه سورة کښ صرف دلیلونه وؤپه اثبات دَبعث باندے نوپه دے کښ دَ دلیلونوسره شواهدهم دی۔ پنځمه وجه، هلته کښ ذکردَ اقوام مکذبه وؤاجمالاً دلته دَ هغے نه دَ پنځو قومونو عذابونه ئیے ذکرکړل۔

دعویٰ دَ دے سورة: اثبات دَ بعث بعد الموت دے په(۵)کښ په ذکر دَ پنځه شواهدو اوپه عقلی دلیلونو اوپه ذکردَ عذاب دَ پنځه قومونوسره اودعویٰ دَ توحید په (۵۰،۵۱،۵۶)کښ ده اواوو(۷) اسماء حسنیٰ ئے ذکرکړی دی۔

خلاصه دَ سورة دا ده: چه دا سورة تقسیم دے دوه بابونوته اول باب تر(۲٤) پورے دے پدیکښ پنځه شواهد دی اوپه منیځ کښ دعویٰ دَسورة ده بیا پنځه حالات دَمکذبینوپه طریقه دَ زجرسره بیانوی بیا بشارت په ذکردَپنځه صفاتودَ متقینوسره بیا درے عقلی دلیلونه چه په هغے کښ پنځه حالات ذکردی اوبیا قسم ذکردے۔ دلیلونه اوقسم دَپاره دَاثبات دَبعث بعدالموت دی۔

تفسیر

[۱،۲،۳،٤] دا څلور قسمونه دی په طریقه دَ شواهدو سره په روستو دعویٰ باندے او دا صفتونه ټول دَ هواګانودی یا دا صفتونه دَ موصوفاتو جدا جدا دی یعنی ذَاریات، صفت دَ هواګانودے اوحَامِلَات، صفت دَ وریځو دے اوجَارِیَات، صفت دَ کشتودے اومُقَسِّمَات، صفت دَ ملائکو دے۔

[۵،٦] دا جواب قسم اودعویٰ دَسورة ده مراد دَ دے نه خروج دے دَ قبرونونه چه دَ هغے وعده په سورة قٓ کښ ذکرشویده۔ اومناسبت دَ مقسم بهٖ دَ جواب قسم سره دا دے لکه څرنګ چه اللّٰه تعالیٰ په ذریعه دَ هواګانودوړے خورے کړی اوبیا ترینه وریځے جوړے کړی اوبیا ئیے په منیځ دَ اسمان اوزمکه کښ روانے کړی

مَنْ اُفِكَ ﴿۹﴾ قُتِلَ الْخَرّٰصُوْنَ ﴿۱۰﴾ الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ غَمْرَةٍ سَاهُوْنَ ﴿۱۱﴾ يَسْـَٔلُوْنَ اَيَّانَ يَوْمُ الدِّيْنِ ﴿۱۲﴾
يَوْمَ هُمْ عَلَى النَّارِ يُفْتَنُوْنَ ﴿۱۳﴾ ذُوْقُوْا فِتْنَتَكُمْ ؕ هٰذَا الَّذِيْ كُنْتُمْ بِهٖ تَسْتَعْجِلُوْنَ ﴿۱۴﴾ اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ فِيْ

هغه څوك چه اړولے شو (۹) تباه کړے شو په توك خبره کوؤنکی (۱۰) هغه کسان چه دوی په جهل کښ غافل دی (۱۱) تپوس کوی چه کله به وی ورځ دَ جزا (۱۲) هغه ورځ چه دوی په اور باندے اوسوځولے شی (۱۳) اوځکئے عذاب دَ سوزش خپل دا هغه څیز دے چه تاسو به دا په تادئے سره غوختلو (۱٤) یقیناً متقیان به په

او بیائیے دَباران په صورت کښ زمکے ته واپس را اولیږی دارنګ اللّٰه تعالیٰ قادر دے چه دا انسانان ذرے ذرے کړی اوبیا ئیے راجمع کړی او ارواح ورته په اسانتیا سره راولی اوجزا او سزا ورباندے تقسیم کړی۔

[۷] دا پنځم قسم بطورشاهد دے دائیے دَ محکښ قسمونونه جدا ذکرکړو ځکه دَ دے مقسم به جدا دے دَ هغے مقسم به نه اودارنګ هغه دَ عالم وسطی اوسفلی څیزونه وؤ(سیوا دَ مقسمات نه په یوتفسیر باندے) او دا عالم علوی دے ﴿اَلْحُبُكِ﴾ حبك مضبوط اووَل دَ جامے چه خائسته اوصفاهم وی او مختلفے کرځے پکښ وی نوهغه ته وئیلے کیږی نودلته هم دَ اسمانونومضبوط والے اوصفائي اوپه ستوروسره خائسته کیدل او دَ هغے په وجے سره لارے جوړیدل په اسمان کښ دا ټول صفتونه مراد دی۔

[۸] غوره دا ده چه دا جواب قسم دے اودَ دے ایت نه دَمنکرینوپنځه قبائح ذکرکوی په طریقه دَ زجر ورکولوسره ﴿قَوْلٍ مُّخْتَلِفٍ﴾ په باره دَ قرآن اودَ رسول اودَ قیامت کښ اودَ اللّٰه تعالیٰ کښ دَ هریوباره کښ دَمنکرینوکلمے وډے خبرے دی۔ دَ قسم اوجواب قسم مناسبت دا دے چه دَ اسمان مضبوط والے اوخائست شاهد دے چه دَ دے جوړ وؤنکے (اللّٰه تعالیٰ) قادراو عالم دے په هرڅیز باندے نودَ هغه په خلاف کښ ستاسواقوال باطل اوګلډوډ وی۔

[۹] دا هم زجردے مراد دَ دے نه ګمراهان مقلدین دی چه دَګمراهانو مشرانودَ مختلف اقوالوپه وجے سره دَحق نه اوړیدلے شی هرکله چه مقلّدخان بے اختیاره کړے دے دَد ے وجے نه مجهول صیغه ئیے ذکرکړیده۔

[۱۰] دا هم زجردے ﴿قُتِلَ﴾ او قاتل په معنیٰ دَ لعنت اوتباهئ سره هم مستعملیږی ﴿اَلْخَرّٰصُوْنَ﴾ مراد دَ دے نه هغه خلق دی چه قول مختلف، کښ دی بے دلیله مشغول دی۔اودا لفظ دَخرص نه اخستلے شویدے په اټکل سره(بغیرد دلیل نه)خبره اوفیصله کولوته وئیلے کیږی۔یعنی دَ اللّٰه تعالیٰ اودَ قیامت اودَقران اورسول په باره کښ دَ دے منکرینواقوال په اټکل باندے بنادی اوقرطبی وئیلی دی چه پدیکښ نجومیان هم داخل دی چه دَ اسمان دَ ستورو په باره کښ بے دلیله خبرے کوی او دَ هغے تاثیر ثابتوی۔

[۱۱] دا بل زجردے اوتعریف دے دَخراصون دَپاره۔

[۱۲] دا بل زجردے اودا اثرد غمره اودَ سهودے ﴿يَسْـَٔلُوْنَ﴾ دا سوال په طریقه دَتکذیب اودَعناد سره دے۔

[۱۳،۱٤] ﴿يُفْتَنُوْنَ﴾ فتن په اصل کښ وئیلے کیږی دَسروزرو ویلی کولوته په اُورباندے مراد ترینه سوځول اوعذاب ورکول دی۔ هٰذَا دا اشاره ده فتنه ته په تاویل دَعذاب سره دَ دے وجے نه مذکرئیے ذکر کړے دے۔

جَنّٰتٍ وَّعُيُوْنٍ ﴿۱۵﴾ اٰخِذِيْنَ مَآ اٰتٰىهُمْ رَبُّهُمْ ؕ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَبْلَ ذٰلِكَ مُحْسِنِيْنَ ﴿۱۶﴾ كَانُوْا قَلِيْلًا مِّنَ الَّيْلِ
مَا يَهْجَعُوْنَ ﴿۱۷﴾ وَبِالْاَسْحَارِ هُمْ يَسْتَغْفِرُوْنَ ﴿۱۸﴾ وَفِيْٓ اَمْوَالِهِمْ حَقٌّ لِّلسَّآئِلِ وَالْمَحْرُوْمِ ﴿۱۹﴾ وَفِي الْاَرْضِ اٰيٰتٌ

جنتونو کښ او چینو کښ وی (۱۵) اخلی به هغه نعمتونه چه ورکوی دوی ته رب ډ دوی یقیناً دوی ډ دے نه مخکښ وؤ خائسته عمل کوؤنکی (۱۶) وؤ ډیر کم ډ شپے نه چه اوده کیدل به (۱۷) او په وخت ډ پیش منی کښ دوی بخښنه غوختله (۱۸) او ډ دوی په مالونو کښ برخه د پاره ډ سوال کوؤنکی او سوال نه کوؤنکی (بے نصیبه) وه (۱۹) او په زمکه کښ ډیر دلیلونه دی

[۱۶،۱۵] دا بشارت دے روستوډ تخویف اوزجرنه په بشارت کښ درے څیزونه اوډمتقیانوپنځه صفتونه ذکرکوی ﴿اٰخِذِيْنَ مَآ اٰتٰىهُمْ رَبُّهُمْ﴾ دا اجمالی بشارت دے ټول هغه نعمتونوډ جنت ته شامل دے چه هغه ډشمارنه بهردی اٰخِذِيْنَ، مراد ډ دے نه قبلوؤنکے په رضا سره اوقبض کوؤنکے لګ لګ ځکه ډهغه نعمتونوانتها نیشته دے ﴿مُحْسِنِيْنَ﴾ مراد ډ دے نه احسان په معامله ډ خالق اومخلوق دواړو کښ دے اول احسان اخلاص دے په بندګئ کښ لکه چه په حدیث جبرئیل کښ ذکردے اواخلاص توحید قلبی، عملی اوقولی ټولوته شامل دے دویم احسان عبادت په خائسته طریقه سره اداکول یعنی موافق ډسنت سره دریم احسان ډمخلوق سره بنه معامله او بنه اخلاق چلول اوهغوی ته ډحق دین دعوت ورکول۔ نوداجامع صفت ډ متقیانودے۔ روستو ډ دے بعض جزئیات ذکردی۔

[۱۹،۱۸،۱۷] په درے ایاتونو کښ ډاحسان بعض افراد ذکرکوی ډدے وجے نه ئے ډ عطف په طریقه سره نه دے ذکرکړے ﴿كَانُوْا قَلِيْلًا مِّنَ الَّيْلِ﴾ مراد ډ دے نه دا دے "چه ډ شپے به په کمه حصه کښ اوده کیدل اوپه اکثره حصه ډ شپه کښ به ئے تهجدکول" اودا صفت ډیراعلی دے اګرچه په دے کښ ډعام امت ډپاره ګران والے دے ﴿وَبِالْاَسْحَارِ هُمْ يَسْتَغْفِرُوْنَ﴾ په دے کښ اشاره چه تهجدئیے ترسحرپورے رسولی دی اودارنګ دا اشاره ده چه دوی په خپل قیام اللیل باندے غرورنه دے کړے بلکه ډخپل قصوراو کوتاهئے اقرارئیے کړے دے ﴿يَسْتَغْفِرُوْنَ﴾ په دے کښ اشاره ده چه انسان هرځومره بندګی ډ اللّٰه تعالیٰ کوی لیکن پوره حق ډبندګئ نشی اداکولے ډ دے وجے نه ډعام عبادت په اختتام کښ استغفار وئیل سنت دی لکه هرفرض مونځ پسے درے کرته استغفار وئیل اوډ مجلس په اختتام کښ کفاره ډمجلس دپاره استغفار وئیل۔ ﴿وَفِيْٓ اَمْوَالِهِمْ حَقٌّ﴾ مخکښ صفتونه ډ احسان په حق ډ اللّٰه تعالیٰ کښ ذکر وؤاودا صفت احسان دے په حق ډ مخلوق کښ اوحَقٌّ عام دے که فرض اوواجب وی ډطرف ډ اللّٰه تعالیٰ نه یا دے انسان په ځان باندے لازم کړے وی نوزکوٰة اوصدقات واجبه اواحسان ډخپل خپلوانوسره وغیره ته شامل دے ﴿لِلسَّآئِلِ وَالْمَحْرُوْمِ﴾ سائل هغه دے چه خپل حاجت خلقوته بښکاره کوی اوسوال کوی ډوجے ډضرورت نه اومحروم هغه دے چه خپل حاجت مخلوق ته نه بښکاره کوی اوځوک ډ هغه په حال هم نه پوهیږی ډ دے ډپاره چه صدقه ورله ورکړی۔

لِّلْمُوْقِنِيْنَ ﴿۲۰﴾ وَفِيْٓ اَنْفُسِكُمْ ؕ اَفَلَا تُبْصِرُوْنَ ﴿۲۱﴾ وَفِي السَّمَآءِ رِزْقُكُمْ وَمَا تُوْعَدُوْنَ ﴿۲۲﴾ فَوَرَبِّ السَّمَآءِ
وَالْاَرْضِ اِنَّهٗ لَحَقٌّ مِّثْلَ مَآ اَنَّكُمْ تَنْطِقُوْنَ ﴿۲۳﴾ ع هَلْ اَتٰىكَ حَدِيْثُ ضَيْفِ اِبْرٰهِيْمَ الْمُكْرَمِيْنَ ﴿۲۴﴾ اِذْ دَخَلُوْا
عَلَيْهِ فَقَالُوْا سَلٰمًا ؕ قَالَ سَلٰمٌ ۚ قَوْمٌ مُّنْكَرُوْنَ ﴿۲۵﴾ فَرَاغَ اِلٰٓى اَهْلِهٖ فَجَآءَ بِعِجْلٍ سَمِيْنٍ ﴿۲۶﴾ فَقَرَّبَهٗٓ اِلَيْهِمْ

دپاره دَیقین کوؤنکو (۲۰) او ستاسو په ځانونو کښ هم ، ایا نو ولے نه ګورئے (۲۱) او په اسمان کښ ستاسو رزق دے او هغه څیز دے چه تاسو سره ئے وعده کیدیشی (۲۲) پس قسم دے په رب دَ اسمان او زمکه باندے یقیناً دا خبره حقه ده پشان دَهغه چه تاسو خبرے کوئے (۲۳) یقیناً راغلے دے تاته خبر دَمیلمنو دَ ابراهیم(علیه السلام) چه عزتمند وؤ (۲۴) کله چه داخل شو هغه ته نو اُوئیل ئے سلام کوؤ مونږ سلام هغه اُوئیل چه په تاسو دے سلام وی قوم نا اشنا دی (۲۵) نو پټ روان شو کور والا ته نو را اوړوئے سخے وریت کړے شوے (۲۶) نو نزدے ئے کړو هغه دوی ته

[۲۱،۲۰] اوس روستودَ ذکرَ فریقینونه په باره دَبعث بعد الموت کښ دلیلونه ذکرکوی دَپاره دَ اثبات دَ بعث بعد الموت چه دعویٰ دَسورة ده اودارنګ په دے کښ اشاره ده چه صفتونه دَمتقینو(کوم چه مخکښ ذکرشول هله حاصلیږی کله چه انسان په دنیااوپه ځان کښ فکراوکړی ﴿اٰيٰتٌ﴾ غرونه، دریابونه، اونے،میوے، بوټی، کانړی، سوکړه اوبارانونه داټول دلیلونه دی په قدرت دَبعث بعدالموت باندے سرهٔ دَتوحیدنه ﴿وَفِيْٓ اَنْفُسِكُمْ﴾ مراد دا دے چه دَابتدا دَخلق دَانسان نه ترانتهاء پورے اوپه ټولوباطنی اوظاهری اندامونواودَهغے په ساخت کښ ډیردلیلونه دی په اثبات دَ بعث بعد الموت اودَتوحید باندے۔

[۲۲] دا دلیل عقلی دے۔ مراد دَ رزق نه اسباب دَ روزئے دی او دَ سمانه مراد اوچت طرف دے یعنی بارانونه واوړے هواګانے وغیره دَ روزئے دَ پیدائش دپاره اسباب دی، یا مراد دا دے چه په اسمان کښ دَ اللّٰه تعالیٰ سره دَ هرچا روزی ده۔ یا مراد دَ دے نه تقدیردَ روزئے دے ﴿وَمَا تُوْعَدُوْنَ﴾ یعنی هرخیراوشریه اسمان کښ تقدیرکړیشویدے یا مراد دَ دے نه جنت دے چه هغه په اسمان کښ دَسدرة المنتهیٰ په خواکښ دے۔

[۲۳] دا تاکید دے دپاره دَاثبات دَبعث بعد الموت یعنی وعده دَ قیامت داسے یقینی ده لکه چه تاسو خبرے دَ خُلے نه را اوباسئے اویقین کوئے چه دا ستاسودَ خُلے نه راوتلی دی دا توجیه ابن کثیرکړے ده۔

[۲۴] دَ دے ایت نه ترآخردَ سورة پورے دویم باب دے په دے کښ دَتخویف دُنیوی پنځه نمونے ذکرکوی دَ واقعاتودَ سابقینونه۔ بیا پنځه احوال دَبره خکته اودَ نوروځیزونوپه طریقه دَ دلیل سره ذکرکوی بیا دعویٰ دَتوحید اورد دَشرك ذکر کوی بیا زجردے په پنځه احوالو دَ مکذبینو اوتسلّی ده رسول اللّٰه ﷺ ته او ذکر دَ پنځه صفتونودَ اللّٰه تعالیٰ دے۔ په دے (۲۴) کښ ذکرَ واقعے دَابراهیم(علیه السلام) دے اودا تمهید دے واقعے دَلوط(علیه السلام) ته ﴿اَلْمُكْرَمِيْنَ﴾ دَ دے ډیرے وجے دی یوخودا چه دوی ملائك وواوملائك دَ اللّٰه تعالیٰ په نیزمکرّم دی لکه سورة انبیاء (۲۶) کښ دی دویم داچه ابراهیم(علیه السلام) دَ دوی خدمت پخپله کوؤدریم داچه طلب ګارحرصناك دَ خوراك نه وی۔

[۲۵] هرکله چه هغوی په ناآشناشکلونوکښ داخل شویدی اوبغیرَ اجازت نه ورغلی وؤاوسلام ئے اوکړواوحال دا چه په هغه وخت کښ عام خلق دَابراهیم(علیه السلام) مخالف وؤهغوی په هغه باندے سلام هم نه

قَالَ اَلَا تَاْكُلُوْنَ ﴿۲۷﴾ فَاَوْجَسَ مِنْهُمْ خِيْفَةً ؕ قَالُوْا لَا تَخَفْ ؕ وَبَشَّرُوْهُ بِغُلٰمٍ عَلِيْمٍ ﴿۲۸﴾ فَاَقْبَلَتِ امْرَاَتُهٗ
فِيْ صَرَّةٍ فَصَكَّتْ وَجْهَهَا وَقَالَتْ عَجُوْزٌ عَقِيْمٌ ﴿۲۹﴾ قَالُوْا كَذٰلِكِ ۙ قَالَ رَبُّكِ ؕ اِنَّهٗ هُوَ الْحَكِيْمُ الْعَلِيْمُ ﴿۳۰﴾

اُوئیل ئیے ایا تاسو خوراك نه کوئ (۲۷) نو په زړه کښ پته اوساتله ویره ډ دوی نه دوی اُوئیل مه ویریږه او زیرے ئیے ورکړو په هلك علم والا (۲۸) نو مخامخ شوه بی بی ډ هغه په ډله ډ ملائکو کښ نو په لاس ئیے اُوهلو مخ خپل او اُوئیل ئیے څه بوډئے شنډه یم (۲۹) دوی اُوئیل دغسے به ئیے ته وئیلی دی رب ستا یقیناً هغه حکمتونو والا پوهه دے په هرڅه باندے (۳۰)

کوونودَ دے وجونه (منکرون) ئے اوفرمائیل۔

[۲۶،۲۷] په دے کښ اداب ډمیلمستیا دی اول داچه زړیرو ګرام ډخوراك پکارډے حرف ډفا په دے باندے دلالت کوی دویم میلمه ته ښکاره کول نه دی پکار چه څه ستادپاره ډخوراك انتظام کوؤم کیدے شی هغه ډحیا ډوجے نه انکار اوکړی دریم په خوراك ډ میلمستیا تیارولو کښ هم مناسب تادی پکار ده۔ څلورم عمده او غوره خوراك ډ طاقت مناسب پکار دے او دا تکلّف حسب استطاعت ډ میلمه ډپاره سنت دے۔ پنځم خوراك میلمه ته نزدے کیخودل پکاردی (فَقَرَّبَهٗۤ) کښ دے ته اشاره ده شپږم په امرسره میلمه ته وینانه ده پکارځکه چه ډ ادب نه خلاف ده ډ دے وجے نه اَلَا تَاْكُلُوْنَ، ئیے اوفرمائیل۔

[۲۸] ﴿فَاَوْجَسَ﴾ دا ډ زړه حال دے یعنی په زړه کښ ئیے ویره راغله (سوال) ملائك خودَ زړه په خبروباندے علم نه لری نوڅه رنګ هغوی پوهه شول؟ یوجواب دا دے چه ابراهیم علیه السلام ورته اُوئیل انامنکم وجلون حجر(۵۲)اودویم داچه ډ علاماتونه هم په فِراست سره معلومیږی۔

[۲۹] معلومیږی چه بی بی صاحبه ډ پردے نه شاته اولاړه وه ډ خدمت ډپاره په دے خیال سره چه دا میلمانه څوك اجنبی سړی دی هرکله چه بشارت ئیے واوریدو اوپوهه شوه چه دا ملائك دی نوبیا مخامخ شوه اوداسے سورۃ هود(۷۱) نه هم معلومیږی چه دا ولاړه وه ډپردے نه شاته اودَ قوم لوط ډ هلاکت زیرے ئیے واوریدلونوخوشحاله شوه نوبیا ډابراهیم علیه السلام ډ بشارت نه روستوملائکودے بی بی ته هم بشارت ورکړونوبیا مخامخ راغله په ډیرتعجب کولوکښ ﴿فِیْ صَرَّةٍ﴾ یومعنیٰ ډ دے چغه ده ډ وجے ډتعجب کولونه بے اختیاره بله معنیٰ جماعت دے نومراد دا دے چه جماعت ډملائکوته رامخامخ شوله ﴿فَصَكَّتْ وَجْهَهَا﴾داهم ډتعجب کولوپه وخت ډ زنانوعادت دے صکّه، په پلن ځیز باندے وهل، مراد ډ دے نه پلنے کوتے یا ورغوے دے او وجهَ نه مراد ډ مخ یوطرف دے یا تندے دے﴿عَقِيْمٌ﴾دومره عمرچه یوبنده عادةً ډ اولاد ډ راوړلونه عاجزشی دے ته عقیم وئیلے کیږی اودارنګ چه ډ ابتداء نه اولاد نه وی شوے ترمرګ پورے نوهغے ته هم عقیم وئیلے کیږی لکه سورۃ شوریٰ (۵۰) کښ۔

[۳۰] دا تسلّی ده ډپاره ډ تعجب ډ هغے بی بی۔

قَالَ فَمَا خَطْبُكُمْ اَيُّهَا الْمُرْسَلُوْنَ ﴿٣١﴾ قَالُوْٓا اِنَّآ اُرْسِلْنَآ اِلٰى قَوْمٍ مُّجْرِمِيْنَ ﴿٣٢﴾ لِنُرْسِلَ عَلَيْهِمْ حِجَارَةً
مِّنْ طِيْنٍ ﴿٣٣﴾ مُّسَوَّمَةً عِنْدَ رَبِّكَ لِلْمُسْرِفِيْنَ ﴿٣٤﴾ فَاَخْرَجْنَا مَنْ كَانَ فِيْهَا مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٣٥﴾ فَمَا
وَجَدْنَا فِيْهَا غَيْرَ بَيْتٍ مِّنَ الْمُسْلِمِيْنَ ﴿٣٦﴾ وَتَرَكْنَا فِيْهَآ اٰيَةً لِّلَّذِيْنَ يَخَافُوْنَ الْعَذَابَ الْاَلِيْمَ ﴿٣٧﴾ وَ
فِيْ مُوْسٰٓى اِذْ اَرْسَلْنٰهُ اِلٰى فِرْعَوْنَ بِسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ﴿٣٨﴾ فَتَوَلّٰى بِرُكْنِهٖ وَ قَالَ سٰحِرٌ اَوْ مَجْنُوْنٌ ﴿٣٩﴾ فَاَخَذْنٰهُ

اُوئیل هغه څه لوئے کار دے ستاسو اے رالیږلے شوے ملائکو (۳۱) دوی اُوئیل مونږ رالیږلے شوی یو قوم مجرمانو ته (۳۲) دے دپاره چه را اولیږو په دوی باندے کانړی (جوړشوی) دَ خټو نه (۳۳) نشاندار دی په نیز دَ رب ستا دپاره دَ حدنه تیریدونکو (۳٤) نو اُویستل مونږ هغه څوك چه په هغے کښ وؤ دَ ایمان والو نه (۳۵) نو اونه مُندلو مونږ په هغے کښ سیوا دَ یو کوټے دَ مسلمانانونه (۳٦) او پریخودله مونږ په هغے کښ نښه د پاره دَ هغه خلقو چه ویریږی دَ عذاب درد ناك نه (۳۷) (اونخښه) په واقعه دَ موسیٰ(علیه السلام) کښ کوم وخت چه اولیږلو مونږ دے فرعون ته په دلیل ښکاره سره (۳۸) نو اوګرځیدو په وجه دَ طاقت خپل او اُوئیل ئیے جادوګر دے یالیونے دے (۳۹) نو اونیوؤ مونږ دے

[۳۱] هرکله چه معلومه شوه ابراهیم علیه السلام ته چه دا ملائك دی اوبشارت دَپاره خویو شخص هم پوره وؤ اودوی په واپسئے کښ تلوارکوله نوټپوس کوی دَ هغوی دَکنړوالی اودیروالی اودَ تلوارے کولو ﴿خَطْبُكُمْ﴾ خطب، غټ اودیرضروری کارته وئیلے کیږی۔

[۳۲،۳۳،۳٤] په دے کښ غرض اصلی دَ هغوی دَ ارسال بیان شوچه هلاکول دَمجرمانودی اومعلومه شوه چه زیرے ورکول دَ ځوئي دَ ابراهیم علیه السلام دَ دے په نسبت وړو کے مقصد دے ﴿مُسَوَّمَةً﴾ نښے وربانده وے اشاره ده بل قدرت ته چه په اور سره نښے ورانیږی اوپه دے کښ خوموجود دی اوغوره داچه نښوباندے دَ دوی نومونه لیکلے شوی وؤ ﴿عِنْدَ رَبِّكَ﴾ اشاره ده تقدیرته اودارنګ اشاره ده چه دے ته دَ بندګانولاس نه دی رسیدلی ﴿لِلْمُسْرِفِيْنَ﴾ دَابن عباس رضی اللّٰه عنهما نه روایت کړے شویدے چه مراد دَدے نه مشرکان دی ځکه لوئے اسراف شرك کول دی۔

[۳٦،۳۵] ﴿غَيْرَ بَيْتٍ﴾ مراد دَ دے نه کورد لوط علیه السلام دے دَ هغه ښځه هم ترینه مستثنیٰ ده په قرینه دَ نورو ایاتونو سره چه (الّاامرء ته) باقی صرف دوه لونړه دَ هغه وے اوهغه مسلمانانے وے۔

[۳۷] مراد دَ ایت نه نښه دَ عبرت ده اوهغه خراب شوی کهنډرات دَ دوی دی یا بدبویونه اویاکانړی ویشتلے شوی۔

[۳۹،۳۸] دا دویمه نمونه دَ عذاب دُنیوی ذکرکوی اودا عطف دے په فیها باندے دَ ترکنا دَلاندے دے ﴿بِسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ﴾ مراد دَ دے نه ټول معجزات دَموسیٰ علیه السلام دی چه فرعون ته ئے پیش کړی ووپه تاویل دَ جنس سره یا مراد ترینه معجزه دَ عصاده ﴿سٰحِرٌ اَوْ مَجْنُوْنٌ﴾ اَوُپه معنیٰ دَ تردّد اودَ شك سره دے یعنی دوی په دے حکم کولوکښ پخپله متردد وؤ۔ یا اَوُپه معنیٰ دَ بَلْ سره دے دَپاره دَ ترقیٔ په حکم کولوکښ۔ یا په معنیٰ دَ وَاوسره ځکه چه دوی دواړه حکمونه په موسیٰ علیه السلام باندے کړی وؤ چه ساحردے اومجنون دے۔

وَجُنُوْدَهٗ فَنَبَذْنٰهُمْ فِي الْيَمِّ وَهُوَ مُلِيْمٌ ﴿٤٠﴾ وَفِيْ عَادٍ اِذْ اَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ الرِّيْحَ الْعَقِيْمَ ﴿٤١﴾ مَا تَذَرُ
مِنْ شَيْءٍ اَتَتْ عَلَيْهِ اِلَّا جَعَلَتْهُ كَالرَّمِيْمِ ﴿٤٢﴾ وَفِيْ ثَمُوْدَ اِذْ قِيْلَ لَهُمْ تَمَتَّعُوْا حَتّٰى حِيْنٍ ﴿٤٣﴾ فَعَتَوْا عَنْ
اَمْرِ رَبِّهِمْ فَاَخَذَتْهُمُ الصّٰعِقَةُ وَهُمْ يَنْظُرُوْنَ ﴿٤٤﴾ فَمَا اسْتَطَاعُوْا مِنْ قِيَامٍ وَّمَا كَانُوْا مُنْتَصِرِيْنَ ﴿٤٥﴾
ع ٢ وَقَوْمَ نُوْحٍ مِّنْ قَبْلُ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمًا فٰسِقِيْنَ ﴿٤٦﴾ وَالسَّمَآءَ بَنَيْنٰهَا بِاَيْدٍ وَّاِنَّا لَمُوْسِعُوْنَ ﴿٤٧﴾ وَالْاَرْضَ

او لښکرے دَ دهٔ نو او غورځول مونږ دوی په دریاب کښ او دے وؤ ملامته کوؤنکے دَ ځپل ځان (٤٠) (او نخښه) په عادیانو کښ کله چه اولیږله مونږ په دوی باندے سیلئی شنډه (بے برکته) (٤١) نه پریخودلو هغے هیڅ څیز چه راتللو په هغے باندے مګر اوګرځولو ئے هغه پشان دَ هلوکی ذرے ذرے (٤٢) (اونخښه) په ثمودیانو کښ کوم وخت چه اُوئیلے شو دوی ته مزے واخلئے ترلږ وخت پورے (٤٣) نو نافرمانی ئیے اوکړله دَ حکم دَ رب خپل نه نو اونیولو دوی لره سختے چغے او حال دا دے چه دوی کتل (٤٤) نو وس ئیے اونه لرلو دَ اودریدلو او نه وؤ دوی بدله اخستونکی (٤٥) (هلاك کړے وؤ مونږ) قوم دَ نوح(علیه السلام) دَ دوی نه مخکښ یقیناً هغوی وؤ قوم نافرمان (٤٦) او اسمان جوړ کړیدے مونږ په طاقت سره او مونږ فراخوؤنکی دَ هغے یو(٤٧) او زمکه

[٤٠] دا ښکاره دلیل دے چه فرعون ئیے هم غرق کړے دے ﴿مُلِيْمٌ﴾ یومعنیٰ داچه دهٔ کارونه دَ ملامتیا کړی وؤترمرګ پورے دویمه داچه دهٔ په هغه وخت کښ ځان لره ملامته کوؤ یعنی توبه ئے ویستله لکه سورة یونس(٩٠) کښ تیرشویدی لیکن هغه وخت توبه نه قبلیدله۔

[٤١] دا دریمه نمونه دَ عذاب دُنیوی ذکر کوی۔

[٤٢] په دے کښ تیزی اوهییت شان دَ هغه سیلئی ذکر کوی سوال: داسیلئی په غرونو کښو وغیره باندے راغلے وه لیکن هغه ئے ذرے ذرے کړی نه دی؟ جواب ﴿كَالرَّمِيْمِ﴾ بوټی چه اوچ شی اوذرے ذرے اوسخاشی هغے ته په اصل کښ رمیم وئیلے کیږی دارنګ هغه اډوکی چه زاړه شی او خاورے شی ۔

[٤٣] دا ځلورمه نمونه دَ عذاب دُنیوی ده ﴿تَمَتَّعُوْا حَتّٰى حِيْنٍ﴾ یو معنیٰ داچه دَنیټے دَمرګ پورے دَ خپلوباغونومالونونه فائدے واخلئے اوایمان راوړئے، نو پدیکښ دعوت دے ایمان ته او دَ هغے دُنیوی فائدوته اشاره ده۔ دویمه معنیٰ دا ده چه په دوی باندے فیصله اوشوه چه درے ورځے روستوبه په دوی باندے عذاب راځی۔

[٤٤] ﴿الصّٰعِقَةُ﴾ مراد دَدے نه سخته هیبت ناکه چغه وه چه سبب اوګرځیده دَ خوزیدلودَ زمکے دَپاره۔ دَ دے وجے نه سورة اعراف کښ دَ دوی عذاب په رجفه سره او په سورة هود کښ په صیحه سره ذکر کړیدے۔

[٤٥] ﴿قِيَامٍ﴾ اودریدل اوټینګیدل دی یا طاقت دَ دفع کولودے۔

[٤٦] داپنځمه نمونه دَ عذاب ده۔

[٤٧] دَ دے ایت نه درے عقلی دلیلونه ذکر کوی په اثبات دَ بعث بعد الموت باندے په درے ایاتونو کښ په دیکښ یودلیل علوی ﴿بِاَيْدٍ﴾ دامصدردے په معنیٰ دَ قوت اودَ قدرت سره دا دَعبد اللّٰه بن عباس رضی اللّٰه عنهما نه ابن کثیراوقرطبی روایت ذکر کړے دے اوبل احتمال دا دے چه اَیدٍ جمع دَیدشی لکه سورة یٰس(٧١) کښ دی نودا لفظ به دَ متشابهات نه شی اویا حذف شویده دَ وقف دَوجے نه ﴿وَاِنَّا لَمُوْسِعُوْنَ﴾

فَرَشْنٰهَا فَنِعْمَ الْمٰهِدُوْنَ ﴿٤٨﴾ وَمِنْ كُلِّ شَيْءٍ خَلَقْنَا زَوْجَيْنِ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ ﴿٤٩﴾ فَفِرُّوْٓا اِلَى اللّٰهِ ؕ اِنِّيْ لَكُمْ مِّنْهُ نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿٥٠﴾ وَلَا تَجْعَلُوْا مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ ؕ اِنِّيْ لَكُمْ مِّنْهُ نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿٥١﴾ كَذٰلِكَ مَآ اَتَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا قَالُوْا سَاحِرٌ اَوْ مَجْنُوْنٌ ﴿٥٢﴾ اَتَوَاصَوْا بِهٖ ۚ بَلْ هُمْ قَوْمٌ طَاغُوْنَ ﴿٥٣﴾ فَتَوَلَّ

مونږ غورولے دے نو ښه غورڅوؤنکی یو (٤٨) او د هر شیز نه پیدا کړیدی مونږ جوړے دے دپاره چه نصیحت قبول کړئے تاسو (٤٩) نو او تښتئے الله تعالیٰ ته یقیناً څه تاسو لره د هغه نه ویره درکوؤنکے یم ښکاره (٥٠) او مه جوړوئے د الله تعالیٰ سره حقدار د بندګئے بل یقیناً څه تاسو لره د هغه نه ویره ورکوؤنکے یم ښکاره (٥١) دغسے نه راتلو هغه کسانو ته چه د دوی نه مخکښ وؤ هیڅ رسول مګر دوی وئیل جادو ګر دے او لیونے دے (٥٢) ایا دوی یوبل ته وصیت کړے دے پدے خبره باندے بلکه دوی قوم سرکش دی (٥٣) نو مخ واړوه

د وسع نه ماخوذ دے په معنیٰ د قدرت واسعه سره دے۔

[٤٨] د ادویم دلیل سفلی دے۔

[٤٩] دا دریم دلیل دے او وسطی دے یعنی چه الله تعالیٰ قادردے په پیدا کولود زوجیت د ځیزونو نو قادر دے په دوباره ژوندی کولوباندے اودارنګ هرکله چه هرځیزجوړئے جوړئے ډے نود دنیا دپاره هم جوړئے پکاردہ چه اخرت دے ﴿وَمِنْ كُلِّ شَيْءٍ﴾ حیواناتونباتاتوکښ اوپه اوصافواواحوالوکښ او رنګونو او اوقاتوکښ زوجیت دے یعنی مذکراومؤنث غنیٰ اوفقرحسن اوقبح ژوندواومرګ اوتیرے رنړا اوشپه ورځ، نمراوسپوږمئی، صحت اوبیماری، اوچه اولونده (دریاب) سمه اوغر، ګرمی اویخنی، ایمان اوکفر، سعادت اوشقاوت، حق اوباطل، خوږ اوتریخ، اسمان اوزمکه، خیراوشر، جن اوانس، صبا اوبیګاه، حرکت اوسکون، ښکته اوبره، ابتدا اوانتها، دُنیا اواخرت، وغیره۔

[٥٠] دا نتیجه ده د تیرشوی نقلی اوعقلی دلیلونواودا لفظ ډیرومعانیوته شامل دے یعنی اوتښتئے د ماسویٰ الله نه الله تعالیٰ طرف ته اود ګناهونونه طاعت د الله تعالیٰ ته ،اود طاعت د شیطان نه طاعت د الله تعالیٰ ته، اود جهل نه علم ته او د بندګئے د غیر الله نه بندګئے د الله تعالیٰ ته۔

[٥١] اول ایت کښ اثبات د توحید وؤ اوپه دے کښ نفی د شرك ده اودا کمال توحید دے ﴿نَذِيْرٌ﴾ اول انذار د عذاب د دُنیا نه وؤ او دا انذار د عذاب د اخرت نه دے۔

[٥٢،٥٣] په دے ایاتونوکښ زجردے منکرینوته یعنی په امر(ففروا) اونهی (فلاتجعلوا) باندے دوی عمل نه کوی بلکه تکذیب کوی ﴿اِلَّا﴾ سوال: دا دلالت کوی په حصرباندے یعنی مکذبینو سیوا د دے دوه حکمونونه نورهیڅ نه دی وئیلی اوحال داچه هغوی خوپه نوروطریقواوالفاظوسره هم تکذیب کړے دے لکه كَذَّبَ عَادٌ، اوداسے نور؟ جواب: دا دواړه لفظونه ئے په کثرت سره وئیلی وویا دا چه دا دواړه جامع دی هغه ټولوقبائحولره چه دوی انبیاؤته نسبت کوؤځکه ساحرصفت ټولو فساداتوته شامل دے او مجنون هغه احوالوته عام دے چه د انسانیت نه پرے سړے بهرکیږی۔

عَنْهُمْ فَمَآ اَنْتَ بِمَلُوْمٍ ﴿٥٤﴾ وَّ ذَكِّرْ فَاِنَّ الذِّكْرٰى تَنْفَعُ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٥٥﴾ وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْاِنْسَ اِلَّا
لِيَعْبُدُوْنِ ﴿٥٦﴾ مَآ اُرِيْدُ مِنْهُمْ مِّنْ رِّزْقٍ وَّمَآ اُرِيْدُ اَنْ يُّطْعِمُوْنِ ﴿٥٧﴾ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الرَّزَّاقُ ذُو الْقُوَّةِ الْمَتِيْنُ ﴿٥٨﴾
فَاِنَّ لِلَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ذَنُوْبًا مِّثْلَ ذَنُوْبِ اَصْحٰبِهِمْ فَلَا يَسْتَعْجِلُوْنِ ﴿٥٩﴾ فَوَيْلٌ لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ
يَّوْمِهِمُ الَّذِيْ يُوْعَدُوْنَ ﴿٦٠﴾ ع

دَ دوی نه نو ته نه ئے ملامته کړے شوے (٥٤) او قرآن بیان کړه یقیناً قرآن بیانول نفع ورکوی مؤمنانو ته (٥٥) او نه دی پیدا کړی ما پیریان او انسانان مګر دے دپاره چه زما بندګی اوکړی (٥٦) ځه نه غواړم دَدوی نه هیڅ روزی (دَځان دپاره) اونه غواړم چه ماله دے خوراك راکړی (٥٧) یقیناً اللّٰه تعالیٰ خاص هغه روزی ورکوؤنکے دے خاوند دَ طاقت مضبوط دے (٥٨) نو یقیناً هغه کسانو لره چه ظلم ئے کړیدے برخے دَ عذاب دی پشان دَ برخے دَ عذاب دَ ملګرو دَ دوی نو دوی دے په تادئے سره نه غواړی (٥٩) نو تباهی ده هغه کسانو لره چه کفر ئے کړیدے دَ وجے دَ هغه ورځے دَ دوی نه چه دوی سره ئے وعده کیدیشی (٦٠)

[٥٤،٥٥] دا تسلّی ده او تشجیع ده نبی ﷺ ته۔

[٥٦] دَ دے ربط دَ ذَکِّرسره دے یعنی دوی ته تذکیردَحِکمت دَپیدائش دَ جن اوانس ورکړه ﴿اِلَّا لِيَعْبُدُوْنِ﴾(سوال) هرکله چه عبادت دَ اللّٰه تعالیٰ په طریقه دَتوحید سره مراد شی دَ خَلقِ جن اوانس نو ډیر جن اوانس خوتوحید والانه دی نوخلاف لازم شودَ ارادے دَ اللّٰه تعالیٰ نه نوثابت شومذهب دَ معتزلواودا خلاف دے دَ ډیرونصوصونه؟ جواب: په ډیروطریقوسره دے اوله طریقه دا ده چه مراد دَ دے اقرارکول دی په بندګئے دَ اللّٰه تعالیٰ که په خوښه سره وی اوکه په زورسره وی نوکفار اومشرکین په حالت دَکُرُه (زور) کښ اقراردَ بندګئے دَاللّٰه تعالیٰ کوی۔ دویمه طریقه داده چه مراد دَدے نه امرکول اومکلف کول دَ دوی دی په توحید سره اوامردوی ته شویدے لکه په ایت دَ سورة بینة (٥) کښ دی۔

[٥٧] په دے کښ اثبات دَالوهیت دَاللّٰه تعالیٰ دے چه اللّٰه تعالیٰ هیڅ قسم محتاج نه دے اودفع دَ وهم ده، هغه داچه مخلوق چه هرکله ځان له عبید (مریان) جوړوی نودَخپل اغراضودپاره ئے جوړوی نواللّٰه تعالیٰ اوفرمائیل چه ما دَخپل هیڅ غرض اوفائدے دَپاره نه دی پیداکړی﴿مِنْ رِّزْقٍ﴾ یعنی رزق ګټل اوکسبونه دَبندګانودَ ځان دَپاره دی پدیکښ اللّٰه تعالیٰ دَ ځان دَپاره هیڅ فائده غرض اومقصد نه دے ګرځولے۔

[٥٨] هرکله چه بعض مولاګان دے خپلومریانونه خدمت نه اخلی نوروزی هم نه ورکوی نواللّٰه تعالیٰ داوهم هم دفع کړوپه دے قول سره چه ﴿اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الرَّزَّاقُ﴾۔﴿الْمَتِيْنُ﴾ په دیکښ اشاره ده چه په قوت دَ اللّٰه تعالیٰ کښ هیڅ قسم کمزوری نه راځی

[٥٩،٦٠] دا تخویف دُنیوی دے یعنی هرکله چه ذکرشوحکمت دَپیدائش دَجن اوانس اوذکرشو قوّت دَ اللّٰه تعالیٰ نو داسبب دے دَپاره دَسزا دَظالمانوهغه چه دَحکمت دَپیدائش نه ئے خلاف کړیدے ﴿ذَنُوْبًا﴾ په اصل کښ هغه بوقے ته وئیلے کیږی چه دکه وی دَ اوبونه دارنګ هغه ورځ دَ شرته وئیلے کیږی چه ډیره اوګډه وی دلته مرادغټه برخه دَعذاب ده ﴿مِثْلَ ذَنُوْبِ اَصْحَابِهِمْ﴾ مراد دَ دے نه هغه قومونه دَ مکذبینو

سُوْرَةُ الطُّوْر (٥٢) مَكِّيَّةٌ (٤٩) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ٤٩ رُكُوْعَاتُهَا ٢

وَالطُّوْرِ ۙ﴿١﴾ وَكِتٰبٍ مَّسْطُوْرٍ ۙ﴿٢﴾ فِيْ رَقٍّ مَّنْشُوْرٍ ۙ﴿٣﴾ وَّالْبَيْتِ الْمَعْمُوْرِ ۙ﴿٤﴾ وَالسَّقْفِ الْمَرْفُوْعِ ۙ﴿٥﴾ وَالْبَحْرِ
الْمَسْجُوْرِ ۙ﴿٦﴾ اِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَاقِعٌ ۙ﴿٧﴾ مَّا لَهٗ مِنْ دَافِعٍ ۙ﴿٨﴾ يَّوْمَ تَمُوْرُ السَّمَآءُ مَوْرًا ۙ﴿٩﴾ وَّتَسِيْرُ الْجِبَالُ

قسم دے په طور باندے (١) او په کتاب لیکلے شوی (٢) په پانړو خورو وَرو کښ (٣) او په کور اباد کړے شوی باندے (٤) او په چت پورته کړے شوی باندے (٥) او په سمندر ډك کړے شوی باندے (٦) چه یقیناً عذاب دَ رب ستا ضرور واقع کیږی (٧) نیشته هغه لره هیڅ دفع کوؤنکے (٨) په هغه ورځ چه اوبه چورلی اسمان په چورلیدلو (٩) او روان به شی غرونه

(بقیه تفسیر دَ سورة الذّاریات) دی چه په دے سورة کښ دَ هغوی دَ عذابونو ذکرشویدے نو په دیکښ عذاب دُنیوی مراد دے۔

سورة الطور

ربط: دَ دے سورة دَ ماقبل سره په ډیرو وجوهوسره دے اوله وجه دا ده چه په سورة ذاریات کښ خبرورکول وؤپه صدق دَ وعدے او واقع کیدل دَ جزاء وو نو په دے سورة کښ یو صورت دَ جزائیے ذکرکړے دے چه هغه عذاب دے۔ دویمه وجه دا ده چه هلته کښ افتتان په اور باندے ذکرکړے وؤنو په دے سورة کښ مصیبتونه دَ اور ذکرکوی۔ دریمه وجه داده چه هغه سورة کښ اجمالی بشارت وو متقیانوته او په دیکښ تفصیلی بشارت دے۔

دعویٰ دَ سورة: اثبات دَ قیامت دے په ذکرِ دَ وقوع دَ عذاب سره۔ اوبیان دَ توحید هم دے په رد دَشرك فی الدعا او اتخاذ دَ ولد سره په (٢٨،٣٩،٤٣،٤٧) کښ۔

خلاصه دَ سورة داده: چه دا سورة تقسیم دے دوه بابونوته اول باب تر(٢٩) پورے دے په دے کښ پنځه شواهد دی په دعویٰ دَسورة باندے بیا دعویٰ ئیے ذکرکړے ده بیاتخویف اُخروی دے په نهه طریقوسره بیا بشارت تفصیلیه دے په اتلس وجوهوسره، سره دَ ذکرِ دَ سبب دَ دخول جنت نه په (٢٨) کښ۔

تفسیر

[١نه تر٦پورے] دا ټول قسمونه دی په طریقه دَشهادت دَپاره دَاثبات دَ دعوے چه ورپسے ذکرکړے شوے ده ﴿الطُّوْرِ﴾ هرهغه غرته وئیلے کیږی چه اوبوتی پکښ وی اومشهوردے په دے نوم سره هغه غرچه موسیٰ علیه السلام سره اللّٰه تعالیٰ کلام کړے وؤدَ هغے په خواکښ۔ اومشرکین عرب په تقلیدِ دَ اهلِ کتابوکښ دَدے واقعاتواودَطورِ دَ شرافت قائل وؤ ﴿وَكِتٰبٍ مَّسْطُوْرٍ فِيْ رَقٍّ مَّنْشُوْرٍ﴾ غوره دا ده چه مراد دَ دے نه تورات دے چه په تختوکښ لیکلے شوے موسیٰ علیه السلام ته ورکړے شویوؤ لکه په سورة اعراف (١٤٥) کښ تیرشوی دی ﴿وَالْبَيْتِ الْمَعْمُوْرِ﴾ په حدیث دَ معراج کښ ذکرشویدی چه په اُوم اسمان کښ رسول اللّٰه ﷺ ته بیت المعمور ښکاره کړے شوچه هره ورځ هغے ته اویازره ملائك داخلیږی اوبیا

سَيْرًا ﴿١٠﴾ فَوَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿١١﴾ الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ خَوْضٍ يَّلْعَبُوْنَ ﴿١٢﴾ يَوْمَ يُدَعُّوْنَ اِلٰى نَارِ
جَهَنَّمَ دَعًّا ﴿١٣﴾ هٰذِهِ النَّارُ الَّتِيْ كُنْتُمْ بِهَا تُكَذِّبُوْنَ ﴿١٤﴾ اَفَسِحْرٌ هٰذَآ اَمْ اَنْتُمْ لَا تُبْصِرُوْنَ ﴿١٥﴾
اِصْلَوْهَا فَاصْبِرُوْٓا اَوْ لَا تَصْبِرُوْا ۚ سَوَآءٌ عَلَيْكُمْ ۭ اِنَّمَا تُجْزَوْنَ مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿١٦﴾ اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ فِيْ جَنّٰتٍ
وَّنَعِيْمٍ ﴿١٧﴾ فٰكِهِيْنَ بِمَآ اٰتٰىهُمْ رَبُّهُمْ ۚ وَوَقٰىهُمْ رَبُّهُمْ عَذَابَ الْجَحِيْمِ ﴿١٨﴾ كُلُوْا وَاشْرَبُوْا هَنِيْۗـًٔا بِمَا كُنْتُمْ

په روانیدلو (١٠) نو تباهی ده په دغه ورځ تکذیب کوؤنکو لره (١١) هغه کسان چه دوی دی په باطله مشغولا کښ لوبے کوی (١٢) په هغه ورځ به په دیکو بوتللے شی اور دَ جهنم ته په دیکو دیکو (١٣) (اوبه وئیلے شی) دا هغه اور دے چه تاسو وئے دَ دے تکذیب کوؤنکی (١٤) ایا نو دا جادو دے یا تاسو هیڅ نه وینے (١٥) ورننوځئے اورته که صبر کوئے او که نه کوئے برابره خبره ده په تاسو باندے یقیناً بدلے درکیدیشی تاسوته دَ هغه عملونو چه تاسو کول (١٦) یقیناً متقیان به په باغونو او نعمتونو کښ وی (١٧) خوشحالی به کوی په هغه نعمتونو چه ورکړیدی دوی ته رب دَ دوی او بچ ساتلی دی دوی رب دَ دوی دَ عذاب دَ جهنم نه (١٨) خورئے او څښئے په خوشحالئے سره په سبب دَ هغه

دوباره دَ هغوی نمبر ندے راغلے نو هغه اباد دے په طوافونو او عبادتونو دَ ملائکو سره یا مراد دَد ے نه کعبة اللّٰه ده چه هغه هم په حاجیانو اوعمره کوؤنکو سره همیشه اباد ده او ابراهیم علیه السلام دَ هغے تعمیر کړیدے اودَ هغے په خوا کښ په اصحاب فیل باندے عذاب راغلے وؤدَ دے وجے په شهادت دَعذاب کښ ذکر کیدے شی ﴿وَالسَّقْفِ الْمَرْفُوْعِ﴾ دَ اسمان دَطرف نه ډیرعذابونه په منکرینوباندے راغلی دَ دے وجے نه ئے په شهادت کښ ذکرکړے دے ﴿وَالْبَحْرِ﴾ په دریاب اوطوفان کښ قوم فرعون اوقوم دَنوح علیه السلام هلاك شویدی نوداهم شهادت دے په عذاب باندے ۔

[٨،٧] دا جواب دَ قسم دے اودَ قسم اوجواب په مینځ کښ مناسبت مخکښ بیان شوهغه داچه په دے ټولو کښ دَ عذاب واقعاتوته اشاره ده ۔

[١٠،٩] په دیکښ وخت دَ وقوع دَ عذاب ذکرکړے دے یعنی ورځ دَ قیامت۔ اودَ هغه ورځ هیبتونه ذکرکوی دَ اسمان او دَ غرونوحالات۔

[١٢،١١] په دے کښ ذکردَ مستحقینودَ عذاب دے اودَ عذاب دوه اسباب ذکرکوی مراد دَد ے نه په باطل بحثونوکښ مشغولیدل اوپه دین باندے اعتراضونه اوطعنونه کول دی لکه چه دَ دهریانو اوغټو فاسقانو مجلسونه وی ﴿يَلْعَبُوْنَ﴾ یعنی دا بحثونه دَحق معلومولواودَ تحقیق دپاره نه کوی بلکه دَ لوبو کولو په طریقه صرف وخت تیروی۔

[١٤،١٣] په دے کښ دَ هغه ورځے نور هیبتونه ذکرکوی۔

[١٦،١٥] دَ دے نه وراندے یقول الملائکةُ پټ دے۔ ملائك دَ جهنم به ورته اُوائی۔

[١٨،١٧] دَ دے نه تفصیلی بشارت دَ متقینو دپاره شروع شو په دے دواړه اياتونو کښ په خلور څیزونو سره زیږے دے ﴿وَوَقٰىهُمْ﴾ دا مستقل نعمت دے یعنی جنت ته دَ ابتدانه داخل شول او دَ اور نه بالکل بچ ساتلے شویدی۔

تَعْمَلُوْنَ ﴿١٩﴾ مُتَّكِـِٕيْنَ عَلٰى سُرُرٍ مَّصْفُوْفَةٍ ۚ وَزَوَّجْنٰهُمْ بِحُوْرٍ عِيْنٍ ﴿٢٠﴾ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُمْ
بِاِيْمَانٍ اَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَمَآ اَلَتْنٰهُمْ مِّنْ عَمَلِهِمْ مِّنْ شَيْءٍ ۭ كُلُّ امْرِئٍۢ بِمَا كَسَبَ رَهِيْنٌ ﴿٢١﴾
وَاَمْدَدْنٰهُمْ بِفَاكِهَةٍ وَّلَحْمٍ مِّمَّا يَشْتَهُوْنَ ﴿٢٢﴾ يَتَنَازَعُوْنَ فِيْهَا كَاْسًا لَّا لَغْوٌ فِيْهَا وَلَا تَاْثِيْمٌ ﴿٢٣﴾

عملونو چه تاسو کول (۱۹) تکیه به ئے وهلے وی په کټونو باندے چه صف په صف به پراته وی او جوړئے به ورکړو مونږ وی به دَ دوی سره حورے خائسته سترګو والا (۲۰) او هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے او تابعداری کړے ده دَ دوی بجو دَ دوی په ایمان سره یوځائے به کړو مونږ دَ دوی سره بچی دَ دوی اونه به نیمګړے کوؤ مونږ دَ عملونو دَ دوی نه هیڅ څیز هر سړے به دَ هغه عمل چه کړے وی انتظار کوؤنکے وی (۲۱) او زیاتوؤ مونږ دوی لره میوے او غوښے دَ هغه قسم نه چه دوی ئے اشتها لری (۲۲) راخلی به دَ یوبل نه په هغے کښ کاسے ډکے نه به وی بے فائدے خبرے په هغے کښ اونه ګناه (۲۳)

[۲۰،۱۹] په دے ایاتونو کښ په ظاهری محسوس نعمتونو سره زیرے ذکر کوی ﴿هَنِيْٓـًٔا﴾ دا دَ خوراك څښاك دواړو سره تعلق لری۔ مراد دَ دے نه دا دے چه خوراك څښاك کښ به هیڅ نقصان یا مرض او افت نه وی۔

[۲۱] په دے کښ زیرے دے په نوروطریقوسره ﴿بِاِيْمَانٍ﴾ مراد دَ ذرِّیّةَ نه عام دے واړه بچی وی او که بالغ وی که واړه وی نومراد دَایمان نه ایمانِ تبعی دے یعنی دَموراوپلارډَایمان دَ وجے نه دوی هم مؤمنان دی او که بالغ وی نومراد دَ ایمان نه ایمان تکلیفی اواختیاری دے یعنی اګرچه دا اولاد په عمل کولو کښ دَپلارانونه کم دی لیکن دَپلارانودَ خوشحالئے دَپاره به دَهغوی سره په جنت کښ یوځائے کړے شی ﴿وَمَآ اَلَتْنٰهُمْ﴾ په دے سره وهم دفع کوی چه کیدیشی چه دَپلارانودرجه به کوزه کړے شی نواولاد به ورسره یوځائے کړے شی نوجواب اوشو چه معامله به برعکس وی دَپلارانوپه جزاکښ به هیڅ نقصان نه راولی۔ ﴿كُلُّ امْرِئٍۢ﴾په دے کښ جواب دَ وهم دے هغه دا دے لکه چه دَپلارډَ نیك عمل په وجه سره اولادته فائده او رسیدله نوکیدے شی چه دَپلارډَ ګناه په وجه یا دَ اولاد دَ ګناه په وجه سره یوبل ته نقصان اورسی نوجواب اوشوچه بدعمل دَهر نفس ځان له دے بیا دا جمله عامه ده هرنیك اوبدعمل ته شامل ده او ﴿رَهِيْنٌ﴾ عام دے په معنیٰ دَانتظارکوؤنکی دَ جزاءِ خیریا جزاءِ شریا مراد دَ دے نه صرف مشرکان او ګناهګار دی په قرینه دَ سورة مدثر (۳۸) سره چه په هغے کښ دَ اصحاب الیمین استثناء ذکرده۔

[۲۲] پدیکښ بشارت په بله طریقه سره دے اودفع دَ وهم ده وهم دا دے چه هرکله اولادئے ورسره یوځائے کړل نوکیدیشی چه دَ هغوی دَ وجے نه په نعمتونوکښ کمے راشی نو جواب اوشو چه وخت په وخت به خوراکونه زیاتیږی۔

[۲۳] ﴿يَتَنَازَعُوْنَ﴾ تنازع په اصل کښ دَ یوبل څه خیزراښکل دی مراد دَ دے نه یوبل ته ورکول دی لیکن راښکل هم راښکل دَ مزے اوخوشطبعئ دی دَحرص اودَجګړے په طریقے سره نه دی ﴿لَغْوٌ﴾ هغه کلام چه هیڅ فائده پکښ نه وی اګرچه نقصان هم پکښ بل چاته نه وی ﴿تَاْثِيْمٌ﴾ هغه کلام دے چه په هغے کښ ګناه وی لکه چه دَ د نیا په شرابوځښلوسره نشه راځی اوبیا کنځل اوفحش کارونه کوی داسے به دَ جنت په مشروباتو کښ نه وی۔ اوتاثیم نشے ته هم وئیلے کیږی۔

وَيَطُوْفُ عَلَيْهِمْ غِلْمَانٌ لَّهُمْ كَاَنَّهُمْ لُؤْلُؤٌ مَّكْنُوْنٌ ﴿٢٤﴾ وَاَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ يَّتَسَآءَلُوْنَ ﴿٢٥﴾ قَالُوْٓا اِنَّا
كُنَّا قَبْلُ فِيْٓ اَهْلِنَا مُشْفِقِيْنَ ﴿٢٦﴾ فَمَنَّ اللّٰهُ عَلَيْنَا وَوَقٰىنَا عَذَابَ السَّمُوْمِ ﴿٢٧﴾ اِنَّا كُنَّا مِنْ قَبْلُ نَدْعُوْهُ ؕ
اِنَّهٗ هُوَ الْبَرُّ الرَّحِيْمُ ﴿٢٨﴾ فَذَكِّرْ فَمَآ اَنْتَ بِنِعْمَتِ رَبِّكَ بِكَاهِنٍ وَّلَا مَجْنُوْنٍ ﴿٢٩﴾ اَمْ يَقُوْلُوْنَ شَاعِرٌ نَّتَرَبَّصُ
بِهٖ رَيْبَ الْمَنُوْنِ ﴿٣٠﴾ قُلْ تَرَبَّصُوْا فَاِنِّيْ مَعَكُمْ مِّنَ الْمُتَرَبِّصِيْنَ ﴿٣١﴾ اَمْ تَاْمُرُهُمْ اَحْلَامُهُمْ بِهٰذَآ اَمْ هُمْ

اوځی رائحی به دَ دوی دَ خدمت دپاره هلکان دَ دوی ګویا که دوی ملغلرے پتے ساتلے شوی دی (٢٤) او مخا مخ به شی بعضِ دَ دوی په بعضو باندے تپوسونه به کوی دَ یو بل نه (٢٥) وائي به دوی یقیناً مونږ دَ دے نه مخکښ پخپله کورنئے کښ ویره کوؤنکی وؤ دَ اللّٰه تعالیٰ نه (٢٦) نو احسان اوکړو اللّٰه تعالیٰ په مونږ باندے او بچ ئے کړو مونږه دَ عذاب دَ ګرمے هوانه (٢٧) یقیناً مونږ دَ دے نه مخکښ وؤ چه اللّٰه تعالیٰ نه مودُعا غوختله یقیناً هغه ډیر احسان کوؤنکے رحم کوؤنکے دے (٢٨) نو بیان کړه قرآن نه ئے ته په نعمت دَ رب ستا سره ترویتی او نه لیونے (٢٩) ایا دوی وائي دے شاعر دے انتظار کوؤ مونږ پده باندے دَ حادثے دَ مرګ (٣٠) ته اُوایه انتظار کوئے یقیناً ځه تاسو سره دَ انتظار کوؤنکو نه یم (٣١) ایا حکم کوی دوی ته عقلونه دَ دوی پدے باندے بلکه دوی

[٢٤] دلته مراد خدمتګاران دی چه دابه په جنت کښ پیداشوی وی لکه دَ حورو پشان یا داچه غلمان ئے ورته اوئیل په اعتبارد خدمت کولواو ولدان ئے ورته اُوئیل په اعتبارد نابالغ کیدلوسره۔

[٢٥] دا بشارت دے په بله طریقه سره یعنی کوم سبب سره چه جنت ته راؤرسیدل په هغے باندے خوشحالی کوی ﴿يَتَسَآءَلُوْنَ﴾ مراد دا چه ځه سبب دے چه دا نعمتونه دَجنت مونږته حاصل شول یا داچه دَ دُنیا دَسترپوالی اوعملونو دَیوبل نه تپوسونه کوی لکه چه سورة صافات(٥٠) کښ تیرشویدی۔

[٢٦] دا حاصل دَ جواب دَ پوښتنے ﴿فِيْٓ اَهْلِنَا﴾ اشاره ده چه سرهٔ دَدے نه چه اهل وعیال په شغل کښ نورو خلقو دَ اللّٰه تعالیٰ دَ عذاب نه غفلت کوؤ لیکن هغه شغل زمونږدَپاره سبب دَغفلت نه دے ګرځیدلے۔ ﴿مُشْفِقِيْنَ﴾ اشفاق هغه ویره ده چه سرهٔ دَ رغبت اودَ مینے نه وی یعنی هم ویره اوهم امید ساتل۔

[٢٧] ﴿السَّمُوْمِ﴾ هغه ګرمه هواچه دَ بدن په مساماتو کښ ورننوځی او دلته مراد ګرمه هوا دَجهنم ده۔

[٢٨] دا علت دے دَ وَقَانَا، دپاره یعنی دَعذاب دَجهنم نه بچ کیدل په دے سبب سرهٔ وؤچه مونږاللّٰه تعالیٰ ته به عاجزی کوله اوپه دُعاکولو کښ موشرك نه دے کړے۔

[٢٩] دَ دے ایت نه دویم باب دے ترآخرد سورة پورے په دے کښ تسلّی اوتشجیع ده رسول اللّٰه ﷺ ته بیا پنځلس زجرونه دی په انکار دَ رسول او په انکار دَ قرآن اوپه شرك کولوباندے۔ اوتخویف دُنیوی دے په (٤٧) کښ اوبیا تسلّی اوامردے دعوت کوؤنکی ته سره دَ ذکردَ توحید نه په آخری درے ایاتونو کښ۔ په دے (٢٩) کښ ترغیب دے په بیان کولودَقرآن سره۔اوپه دے ایت کښ اثبات دَ صدق دَ رسول اللّٰه ﷺ دے۔

[٣٠] دا زجردے منکرینودَ رسول ته اوامْ په کلام دَ عربو کښ استعمالیږی دپاره دَ انتقال دَ یوخبرے نه بلے خبرے ته او ورسره زرونه هم وی ﴿رَيْبَ الْمَنُوْنِ﴾ زمانے اوشپه اوورځ ته وئیلے کیږی ځکه چه دَ انسان عمرکمه وی اوکمزورے کوی اومرګ ته هم وئیلے کیږی۔ اودوی دا دَ دے وجے نه وئیل چه دَ شاعرنه به

قَوْمٌ طَاغُوْنَ ﴿٣٢﴾ اَمْ يَقُوْلُوْنَ تَقَوَّلَهٗ ۚ بَلْ لَّا يُؤْمِنُوْنَ ﴿٣٣﴾ فَلْيَاْتُوْا بِحَدِيْثٍ مِّثْلِهٖٓ اِنْ كَانُوْا صٰدِقِيْنَ ﴿٣٤﴾ اَمْ
خُلِقُوْا مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ اَمْ هُمُ الْخٰلِقُوْنَ ﴿٣٥﴾ اَمْ خَلَقُوا السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ ۚ بَلْ لَّا يُوْقِنُوْنَ ﴿٣٦﴾ اَمْ
عِنْدَهُمْ خَزَآئِنُ رَبِّكَ اَمْ هُمُ الْمُصَيْطِرُوْنَ ﴿٣٧﴾ اَمْ لَهُمْ سُلَّمٌ يَّسْتَمِعُوْنَ فِيْهِ ۚ فَلْيَاْتِ مُسْتَمِعُهُمْ

قوم سرکشان دی (۳۲) ایا دوی وائي دَ ځان نه ئے جوړ کړیدے بلکه دوی ایمان نه راوړی (۳۳) نو دوی دِ راوړی یوه خبره دَ دے پشان که چرے دوی رشتینی وی (۳٤) ایا دوی پیدا کړے شویدی بغیر دَ څهٔ فائدے نه ایا دوی پیدا کوؤنکی (دَ ځانونو دی) (۳۵) ایا دوی پیدا کړیدی اسمانونه او زمکه بلکه دوی یقین نه کوی (۳٦) ایا دَ دوی سره خزانے دَ رب ستا دی یا دوی مقرر کړے شویدی (دَ هغے په تقسیم باندے) (۳۷) ایا دوی لره پاؤنړے شته دے چه غوږ ږدی په هغے کښ ورختونکی نو رادِوړی دعویٰ کوؤنکے دَ اوریدلو دَ دوی

دوی ویره کوله هسے نه چه په شعرونوجوړولو زمونږ بدنامی اوکړی نودَ هغه مرګ به ئے غوښتلوچه دَ دهٔ نه به په مرګ سره خلاصے مومو۔

[۳۱] ﴿مَعَكُمْ﴾ په دے کښ اشاره ده چه دَ مرګ په انتظار کښ ټول برابریو۔

[۳۲] د ابل زجرے حاصل داچه دا خبرے دَرسول اللّٰهﷺ په باره کښ دَعقل والوخبرے نه دی لیکن سبب ئے طغیان اوسرکشی ده۔

[۳٤،۳۳] دا بل زجرے متعلق دے دَ انکارِدَ قرآن سره ﴿بِحَدِيْثٍ﴾ هرکلام چه په هغے باندے تلفظ کیدے شی که قدیم اوکه حادث وی نوهغے ته حدیث وئیلے کیږی اواکثراستعمال ئے منقول کلام کښ کیږی نودَ دے وجے نه قرآن ته حدیث وئیلے کیږی او قران کښ اطلاق دَ حدیث په قرآن باندے نهه کرته کړے شویدے۔

[۳٦،۳۵]دا زجرے په شرك دَ دوی باندے اورد دے په زعم دَ مشرکانو باندے چه ګمان کوی چه مونږ ته اللّٰه تعالیٰ دَ توحید اودَ رسالت اودَ قرآن دَ منلوپه باره کښ هیڅ امراوتکلیف نه دے راکړے اونه راکوی حاصل دَ داړو ایاتونودادے چه دا ګمان خوهله صحیح کیدے شی چه په دے درے خبروکښ یوه خبره وی اول دا چه ستاسو پیدائش عبث اوبے فائدے وی دویم داچه تاسوځان پخپله پیداکړے وی دریم داچه تاسو اسمانونه اوزمکے وغیره پیداکړے وی لیکن په دے درے واړو کښ یوه خبره هم نیشته نوولے انکار کوئے۔

[۳۷] دا زجرهم دَ محکښ سره متعلق دے یعنی که خالق نه دی نو ایا دَ اللّٰه تعالیٰ دَ څه خزانواختیارمند دی، خزانے دَ رزق باران وغیره یا خزانے دَنبوت تقسیم کولو،﴿اَمْ هُمُ الْمُصَيْطِرُوْنَ﴾ داهم زجرے یعنی که اختیار مند دَ خزانونه دی نو ایا په هغے باندے دَ څوکئے کولو او انتظام او تقسیم کولو دَ پاره مقرردی۔

بِسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ﴿٣٨﴾ اَمْ لَهُ الْبَنٰتُ وَلَكُمُ الْبَنُوْنَ ﴿٣٩﴾ اَمْ تَسْـَٔلُهُمْ اَجْرًا فَهُمْ مِّنْ مَّغْرَمٍ مُّثْقَلُوْنَ ﴿٤٠﴾ اَمْ
عِنْدَهُمُ الْغَيْبُ فَهُمْ يَكْتُبُوْنَ ﴿٤١﴾ اَمْ يُرِيْدُوْنَ كَيْدًا ؕ فَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا هُمُ الْمَكِيْدُوْنَ ﴿٤٢﴾ اَمْ لَهُمْ
اِلٰهٌ غَيْرُ اللّٰهِ ؕ سُبْحٰنَ اللّٰهِ عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿٤٣﴾ وَاِنْ يَّرَوْا كِسْفًا مِّنَ السَّمَآءِ سَاقِطًا يَّقُوْلُوْا سَحَابٌ
مَّرْكُوْمٌ ﴿٤٤﴾ فَذَرْهُمْ حَتّٰى يُلٰقُوْا يَوْمَهُمُ الَّذِيْ فِيْهِ يُصْعَقُوْنَ ﴿٤٥﴾ يَوْمَ لَا يُغْنِيْ عَنْهُمْ كَيْدُهُمْ شَيْـًٔا وَّلَا
هُمْ يُنْصَرُوْنَ ﴿٤٦﴾ وَاِنَّ لِلَّذِيْنَ ظَلَمُوْا عَذَابًا دُوْنَ ذٰلِكَ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٤٧﴾ وَاصْبِرْ لِحُكْمِ

دلیل ښکاره (٣٨) ایا هغه لره لونړه دی او تاسو لره ځامن دی (٣٩) ایا ته غواړے دَ دوی نه عوض نو دوی دَ وجے دَ تاوان نه درانه شویدی (٤٠) ایا دَ دوی سره غیب (وحی) شته نو دوی دَ هغے نه لیکل کوی (٤١) ایا غواړی دوی مکر کول (چلول) نو هغه کسان چه کفر ئیے کړے دے هم دوی به په مکر کښ کمزوری کړیشی (٤٢) ایا دوی لره حقدار د بندګئے سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه شته دے پاك دے اللّٰه تعالیٰ دَ هغے نه چه دوی ورله شریك جوړ وی (٤٣) او که چرے دوی اوینی یو ټکړه دَ اسمان نه راپریوتونکے دوی به اُوائي وریځ ده لاندے باندے (٤٤) نو پریږ ده دوی تردے پورے چه مخامخ به شی دَ هغه ورځ سره چه په هغے کښ به دوی بے هوشه کړیشی (٤٥) په هغه ورځ چه نه به شی دفع کولے دَ دوی نه مکرونه دَ دوی هیڅ ضرر او نه به دَ دوی سره مدد کیدیشی (٤٦) او یقیناً هغه کسانو لره چه ظلم ئیے کړے دے عذاب دے مخکښ دَ قیامت نه او لیکن اکثر دَ دوی نه پوهیږی (٤٧) اوصبر کوه فیصلے دَ

[٣٨] دا زجرهم متعلق دے دَ انکار رسالت سره۔ یعنی ایا دوی په څه ذریعه اسمان ته ختلے شی چه وحی اوخه خبر دَ غیب ځان له راوړی لکه چه دے نبی ﷺ ته وحی جبرئیل راوړی۔

[٣٩] دا هم زجردے اورد دے په مشرکین بالملائکه باندے اودارنګ اشاره ده دَ دوی بے عقلئے ته ۔

[٤٠] دا زجرتعلق لری دَ انکار دَ رسالت سره۔ اوپدیکښ اشاره ده اخلاص دَ پیغمبرته چه بے اجرته تبلیغ کوی۔

[٤١] دا هم متعلق دے دَ انکار دَرسالت سره۔

[٤٢] ﴿كَيْدًا﴾ مکرونه کول دپاره دَ قتل دَ نبی یا دَ هغه خلق اړول اومنع کول په مختلفوحیلو سره۔

[٤٣] دا زجردے په شرك دَ دوی باندے یعنی دَ دوی اِله نیشته چه دَمغلوب کیدلونه ئیے بچ اوساتی یا دَ دوی کیدونولره کامیاب کړی۔

[٤٤] دا زجردے په عنادکولوسره دَ تخویف دُنیوی نه اودا جواب دَ هغه مطالبے دَ دوی دے چه په سورة اسرائیل(٩٢) کښ ذکر شویده۔

[٤٥] دا تفریع ده په مخکښ ټولوزجرونوباندے چه بنادی په عناد دَ دوی ﴿حَتّٰى يُلٰقُوْا يَوْمَهُمُ﴾ مراد دَ دے نه ورځ دَ عذاب دَ دنیا ده په هغه چا باندے چه په دُنیا کښ پرے عذاب راځی، او ورځ دَ قیامت دَ عامو منکرینو عنادیانو دپاره ده۔

[٤٦] په دے کښ ذکردَ هیبت دَ ورځے دَ عذاب اودَ قیامت دے۔

رَبِّكَ فَإِنَّكَ بِأَعْيُنِنَا وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ حِيْنَ تَقُوْمُ ﴿٤٨﴾ وَمِنَ الَّيْلِ فَسَبِّحْهُ وَإِدْبَارَ النُّجُوْمِ ﴿٤٩﴾ ع

رب ستاته یقیناً ته زمونږ په سترګو کښ ئیے او تسبیح وایه سره دَ حمد دَ رب ستا نه په هغه وخت چه اودریږئے (٤٨) او دَ شپے نه هم تسبیح وایه او په وخت دَ شاګرځولو دَ ستورو کښ (٤٩)

[٤٧] دا هم تخویف دے اودَ دے عذاب نه مراد دَ دُنیا نورعذابونه دی لکه لوګه مرضونه قحطونه دَ ژوند تنګ والے وغیره او دارنګ عذاب قبرمراد دے لکه چه قرطبی اوخطیب شربینی وئیلی دی۔

[٤٨،٤٩] ﴿فَإِنَّكَ بِأَعْيُنِنَا﴾ دا صفت دَ اللّٰه تعالیٰ په ظاهری معنی باندے دے اوکیفیت باندے ئیے اللّٰه تعالیٰ پوهیږی خو اشاره ده چه اللّٰه تعالیٰ تاله وینی اوستا حفاظت هم کوی نو ویره مه کوه ﴿حِيْنَ تَقُوْمُ﴾ دا عام دے هرقیام ته شامل دے که دَ خوب نه بیداریدل دی اوکه دَ یومجلس نه پاسیدل دی اوکه مونځ ته او دریدل دی اوکه دعوت اوتبلیغ ته اودریدل دی په دے ټولوحالتونوکښ مسنون اذکار نقل کړے شویدی ﴿وَإِدْبَارَ النُّجُوْمِ﴾ ادبارمصدردے یعنی وخت دَ شاګرځولودَ ستورواو هغه وخت دَ صبا ښکاره کیدلودے چه په دغه وخت کښ ستوری په پټیدلوباندے شروع شی اومراد دَ دے نه دوه رکعتونه سنت دَ فجردی اوداپه حدیث دَ ترمذی کښ وارد دی یا مراد ترینه سنت اوفرض دَ فجر دی۔

سُوْرَةُ النَّجْمِ مَكِّيَّةٌ (٥٣) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ٦٢ رُكُوْعَاتُهَا ٣

وَالنَّجْمِ اِذَا هَوٰى ۙ﴿١﴾ مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمْ وَمَا غَوٰى ۚ﴿٢﴾ وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰى ؕ﴿٣﴾ اِنْ هُوَ اِلَّا وَحْيٌ يُّوْحٰى ۙ﴿٤﴾

او قسم دے په ستوری کله چه راکوزشی (دَ خپل ځای نه)(١) نه دے بے لارے ستاسو ملګرے او نه دَ حد نه تیروتلے دے (٢) او خبرے نه کوی دے دَ خواهش نه (٣) نه ده دا مګر وحی چه وحی کیدیشی (٤)

سورة النجم

ربط: دَ دے دَمخکښ سورة سره په ډیرو وجوهوسره دے۔ اوله وجه دا ده چه په مخکښ سورة کښ ډیرزجرونه وو په منکرینو باندے نو په دے سورة کښ زجر دے دَ هغوی په دلیل باندے چه اتباع دَ ظن او دَ هویٰ ده ۔ دویمه وجه دا ده مخکښ سورة کښ زجر وؤ په انکارد رسول باندے نو په دے سورة کښ اثبات دَ صدق دَ رسول دے۔

دعویٰ دَ سورة : اثبات دَصدق دَ رسول دے چه دا رسول په شرکیاتوباندے ردکوی په دلیل دَ وحی سره او مشرکان دلیل نیسی په ګمان اوپه خواهش سره۔او رد دے په مشرکین بالملائکه اوالجن اوانس او ستورو باندے اوپه شرك فی العلم اوعبادت اوشفاعت شرکیه باندے اودعویٰ دَ توحید په (٦٢)کښ ذکرده۔

خلاصه دَ سورة : دا سورة تقسیم دے دوه بابونوته اول باب تر(٢٩)پورے دے په دیکښ شهادت دے په صدق دَرسول اللّٰهﷺ په ذکردَنهه احوالودَ هغه سرهٔ دَنهه حالاتودَجبرئیلؑ، بیا زجردے په مشرکینو باندے په نهه طریقوسره او رد دے په مشرکین بالملائکه اوجن اوانس باندے او رد دے په دلیلونو دَ مشرکانو باندے۔

تفسیر

[١] ﴿وَالنَّجْمِ﴾ دا قسم دے دپاره دَشهادت ذکرکولودَمابعد دَپاره۔ په دیکښ ډیراقوال دی اول قول دا دے چه النجم ثُریّا (تلے پیرونه) ستوری دی چه هغه اُوه ستوری دی په یوځای راجمع وی۔ دویم قول، مراد ټول ستوری دی۔ په دے دواړه قولونوکښ النَّجْم، مفرد جنس دے اومراد ترینه جمع ده۔ دریم قول هغه خاص ستوری چه شیطان په هغے سره اویشتلے شی ځلورم قول نجم قرآن دے ځکه چه نجم قسط (حصه) ته وئیلے کیږی او قرآن په ډیروقسطونوسره نازل شویدے اوپه ډیرو حصوباندے مشتمل دے ﴿اِذَا هَوٰى﴾ په اول اودویم قول سره مراد دَ دے نه غائب کیدل دی۔ اوپه دریم قول سره مراد دَ دے نه ښکته راویشتل دی شیطان پسے اوپه ځلورم قول سره مراد دَ دے نه نازلیدل دَ قرآن دی۔

[٢] داجوابِ قَسم دے فرق په مینځ دَ ضلال اوغوایت کښ په ډیرو وجوهوسره دے اوله وجه دا ده چه ضلال عام دے عقیدے او عملونو دواړوته شامل دے او غوایت خاص دے په عقیده فاسده پورے۔ دویمه وجه داده چه ضَلال دا دے چه دَ لارے نه خطا شی او غوایت دادے چه دَ مقصد نه محرومه شی۔

[٣] دا دویم جواب قَسم دے یعنی کلام دَ دے رسول دَ هرقِسم دَ خواهشاتو نفسانیو نه پاك دے ﴿يَنْطِقُ﴾ هر هغه خبره چه دَ خُلے نه راوځی او دا شامل دے قرآن ته په وخت دَ تلاوت کولو کښ اوشامل دے احادیثو ته چه دا دواړه دَ اتباع هویٰ نه نه دی صادر شوی۔

عَلَّمَهٗ شَدِيۡدُ الۡقُوٰى ۙ﴿۵﴾ ذُوۡ مِرَّةٍ ؕ فَاسۡتَوٰى ۙ﴿۶﴾ وَهُوَ بِالۡاُفُقِ الۡاَعۡلٰى ؕ﴿۷﴾ ثُمَّ دَنَا فَتَدَلّٰى ۙ﴿۸﴾ فَكَانَ قَابَ
قَوۡسَيۡنِ اَوۡ اَدۡنٰى ۚ﴿۹﴾ فَاَوۡحٰۤى اِلٰى عَبۡدِهٖ مَاۤ اَوۡحٰى ؕ﴿۱۰﴾ مَا كَذَبَ الۡفُؤَادُ مَا رَاٰى ؕ﴿۱۱﴾ اَفَتُمٰرُوۡنَهٗ عَلٰى مَا يَرٰى ﴿۱۲﴾

خودنه کړیده دهٔ ته سخت قوتونو والا (٥) خائست والا نو برابر شو (٦) او حال داچه دے وؤ په اوچته غاړه باندے (٧) بیا نزدے شو نو ښه نزدے شو (٧) نو شو په مقدار دَ پاتو دَ دوه لیندو بلکه زیات نزدے (٩) نو وحی ئے اوکړه بنده دَ الله تعالیٰ ته هغه چه وحی ئے اوکړه (١٠) انکار نه دے کړے زړه ، دَ هغے نه چه لیدلے دے (١١) ایا تاسو جګړه کوئے دَ دهٔ سره په هغه څیز باندے چه دهٔ لیدلے دے (١٢)

[٤] دا دریم جواب قَسم دے اوهُوَنه مراد ټول هغه کلام دے چه نبی ﷺ ئے دَ خپلے خُلے نه را اوباسی، قرآن او احادیث، بلکه دَ هغه افعالو او احوالو ته هم شامل دے لکه چه په سراج المنیر کښ لیکلی دی۔

[٧،٦،٥] په دے کښ ذکر دَصدق دَ رسول الله ﷺ دے په بله طریقه چه دَ هغے حاصل په غوره تفسیر سره دادے چه دے رسول ته جبرئیل علیه السلام تعلیم ورکړے دے اودَ هغه سره لیدل هم شویدی۔ مراد دَ شدید القویٰ نه جبرئیل علیه السلام دے په دلیل دَسورة تکویر(٢٠) سره ﴿ذُوۡ مِرَّةٍ﴾ مِرَّة صحت اوقوت دَبدن ته وئیلے کیږی۔ اومِرَّة خائسته صورت ته هم وئیلے کیږی ﴿وَهُوَ بِالۡاُفُقِ الۡاَعۡلٰى﴾ دا ضمیرهم جبرئیل علیه السلام ته راجع دے اوپه دیکښ واقعه دَ ابتداء دَ وحی ته اشاره ده چه رسول الله ﷺ ته جبرئیل علیه السلام په مکه کښ ابطح مقام کښ په اصلی شکل کښ بشکاره شوچه دَ هغه شپږسوه وزرے وے اودَ اسمان کنارے ئے پټے کړے وے ابن جریر وئیلی دی چه دا ضمیر محمّد ﷺ ته راجع دے اوپدے کښ اشاره ده واقعے دَ معراج سماوی ته چه دواړه دَ معراج په شپه دَ زمکے نه ملګری شول اودَ اسمان افق ته اورسیدل۔ بیا ابن کثیر په دے قول باندے ردکړے دے لیکن دَ توجیه په لحاظ سره دا قول صحیح دے۔

[٩،٨] ضمیرونه په اول تفسیر جبرئیل علیه السلام ته راجع دی اوپه دویمه توجیه رسول الله ﷺ ته راجع دی او نزدیکت الله تعالیٰ ته مراد دے ﴿فَتَدَلّٰى﴾ په اصل کښ دَبره طرف نه کوزطرف ته اویزان کیدلوته وئیلے کیږی یعنی جبرئیل علیه السلام راکوزشودَ افق نه اوپه معنیٰ دَښهٔ نزدیکت سره هم استعمالیږی ﴿قَابَ قَوۡسَيۡنِ﴾ قاب په عرف دَعرب کښ دَ قوس (کمان) دَمقبض(دَ نیولوځائے) نه ترسره پورے ته وئیلے کیږی۔ اونیول خو په مینځ کښ وی نو هریوطرف ته یویوقاب شونومعلومه شوه چه په هر قوس کښ دوه قابه دی لکه لسان العرب کښ هم داسے وئیلی دی نوپه دے مقام کښ دَ دوه قوسونو یویوطرف مراد دے نوپه اصل کښ قابا قوسین وو۔ بل قول دا دے چه قاب دلته په معنیٰ دَ فقط مقدار سره دے لکه چه ابن اثیر وئیلی دی بیا داتشبیه عرب دَنزدیکت دَپاره استعمالوی په دے وجه چه دَ دوه دُشمنانو صلحه به اوشوه نوهریوبه خپل قوس راوړلواودَدواړه قوسونو قابونه به ئے دَ یوبل سره پیوست کړل نومطلب به ئے داوؤ چه اُنده دَپاره به مونږ دَ مخالف دُشمن په مقابله کښ دَ یوطرف نه حمله کوؤ اومونږ به یَو یُو۔

[١٠] مراد دَ وحی نه ابتداء دَ سورة مدثر ده یا وحی مبهم ده۔

[١٢،١١] پدیکښ صدق دَ رسول الله ﷺ په رؤیت سره ذکرکوی برابره خبره ده چه رؤیت(لیدل) دَ جبرئیل علیه السلام دی لکه چه دا غوره اوظاهره توجیه ده یا لیدل دَ الله تعالیٰ مراد دی لکه چه روستو تحقیق

وَلَقَدْ رَاٰهُ نَزْلَةً اُخْرٰى ﴿١٣﴾ عِنْدَ سِدْرَةِ الْمُنْتَهٰى ﴿١٤﴾ عِنْدَهَا جَنَّةُ الْمَاْوٰى ﴿١٥﴾ اِذْ يَغْشَى السِّدْرَةَ مَا يَغْشٰى ﴿١٦﴾

او یقیناً ده لیدلے وؤ هغے لره بل ځل (۱۳) دَ سدرة المنتهٰی په خوا کښ (۱٤) چه دَ هغے سره نزدے جنت الماوٰی دے (۱۵) کوم وخت چه پټ کړو بیرے لره هغه څیزونو چه پټ ئیے کړو (۱٦)

کیږی هرکله چه جبرئیل مراد شی نومراد دَ رؤیت نه لیدل په ستر ګوسره دی۔ اومَاكَذَبَ الْفُؤَادُ، مطلب دا دے چه زړه هم دَستر ګوسره موافقت کړے دے یعنی لیدل ئیے یقینی دی۔ لیدل دَ اللّٰه تعالٰی په شپه دَمعراج کښ مسئله اختلافیه ده غوره داده چه یقینی ثبوت ئیے نیشته۔ ابن کثیر او ډیرو محدثینو غوره کړیده چه لیدل ئیے نه دی شوی اوخطیب شربینی اوبعضو مفسرینودویم قول غوره کړیدے اوقرطبی دَ مارای اوعلی مایرای په تفسیر کښ دا قول هم نقل کړیدے چه مراد دَ دے نه هغه ټول اسمانی حالات او بیت المقدس دے چه رسول اللّٰهﷺ دَ معراج په شپه کښ لیدلے وؤ او په هغے کښ مشرکانو شك او جدال کوؤ۔

[۱۳] پدیکښ هم دوه قولونه دی اول داچه ضمیر راجع دے جبرئیلؑ ته دویم دا چه اللّٰه تعالٰی ته راجع دے نو مراد دا چه نبیﷺ دَ عرش دَ طرف نه راکوز شو او دَ هغه په هغه شپه کښ ختل راکوځیدل په اسمانونو کښ ډیرکرته وؤلکه چه په حدیث معراج کښ دی چه موسیٰؑ (شپږم اسمان) ته ډیرکرته تلے راغلے دے یا مراد دَ دے نه راکوځیدل دَ جبرئیل دی، اوکه هریو احتمال شی خو په ایت کښ اسمانی معراج ته اشاره ده۔ ځکه دَ سدرة المنتهٰی سره لیدل او دَ هغے حالات کتل په شپه دَ معراج پورے خاص دی په سبب دَ احادیثو دَ معراج سره، نو ځوك چه وائي چه اسمانی معراج دَ قرآن نه ثابت نه دے نو هغوی جاهلان دی۔

[۱٤،۱۵،۱٦] ﴿سِدْرَةِ الْمُنْتَهٰى﴾ دَ دے وجه دَ تسمیه کښ ډیراقوال دی یودا چه دَملائکودَختلودَپاره منتهیٰ ده دویم دا چه ارواح دَمؤمنانوهغے ته ور رسیږی دریم دا چه منتهیٰ دَ علمونوده او دَ ماوردی نه نقل کړے شوی دی چه تخصیص دَ بیرے ئیے دَ دے وجے نه کړیدے چه په هغے کښ درے صفتونه دی (۱) اوګدسورے (۲) مزیدار خوند (۳) خائسته بوئی، نودارنګ ایمان هم مشتمل دے په قول اوعمل اونیت باندے نوبوی دَ دے پشان دَ قول دَ ایمان دے او سورے دَ دے پشان دَ عمل دَ ایمان دے اوخوند دَ دے پشان دَنیت دَایمان دے دَ دے وجے نه دا محل دَ ارواحودَ مؤمنانودے ﴿عِنْدَهَا جَنَّةُ الْمَاْوٰى﴾ دا تعریف دَ مکان دَجنت دے چه جنت اوس په اُوم اسمان کښ دَ سدرة المنتهیٰ سره دے اګر چه وسعت دَ جنت خودَ اسمانونواوزمکے نه لوئے دے ﴿اِذْ يَغْشَى السِّدْرَةَ مَا يَغْشٰى﴾ په حدیث صحیح کښ راغلی دی چه هغه پتنګان دَ سروزرو وو اُو اکثراهلِ علم وائي چه مراد دَ دے نه ملائك دی او په حدیث دَ معراج کښ وارد دی چه په شپه دَ معراج کښ ځه سدرة المنتهیٰ ته بوتللے شوم نو دَ هغے پانړے پشان دَ غوږونودَ هاتیانو وے اودَ هغے بیرے پشان دَ متکودَ هُجر مقام وے اوهرکله چه امر دَ اللّٰه تعالٰی هغے لره پته کړه نو داسے بدله شوه چه هیڅوك دَ مخلوق دَ اللّٰه تعالٰی نه دَ هغے دَ ستائینے کولوطاقت نه لری۔

مَا زَاغَ الْبَصَرُ وَمَا طَغٰى ﴿١٧﴾ لَقَدْ رَاٰى مِنْ اٰيٰتِ رَبِّهِ الْكُبْرٰى ﴿١٨﴾ اَفَرَءَيْتُمُ اللّٰتَ وَالْعُزّٰى ﴿١٩﴾ وَمَنٰوةَ الثَّالِثَةَ
الْاُخْرٰى ﴿٢٠﴾ اَلَكُمُ الذَّكَرُ وَلَهُ الْاُنْثٰى ﴿٢١﴾ تِلْكَ اِذًا قِسْمَةٌ ضِيْزٰى ﴿٢٢﴾ اِنْ هِيَ اِلَّآ اَسْمَآءٌ سَمَّيْتُمُوْهَآ اَنْتُمْ وَ

نه دے کوڅ شوے نظر دَ دهٔ او نه دَ حدنه تیر شویدے (۱۷) یقیناً دهٔ اولیدلے دَ نخښو دَ قدرت دَ رب خپل نه لوئے نخښے (۱۸) ایا تاسو سوچ کړے دے په حال دَ لات او دَ عزیٰ (۱۹) او دَ منات چه دریم ئے روستو دے (۲۰) ایا تاسوله دے نارینه بچی وی او هغه لره دے لور وی (۲۱) دا خو تقسیم دے نقصانی (۲۲) نه دی دا مګر نومونه دی چه کیخودلی دی تاسو او

[۱۷] په دے کښ صفت دَ نبی ﷺ دے چه هغه دَ دغه مقام ډیرادب کړے دے اودَ خپل مقصدنه علاوه بل طرفته ئیے نظرنه دے ګرځولے ۔ دَ مقصد نه نظر بل طرف ته په ګرځولو کښ دوه طریقے دی یو داچه دَ هغه مقصدنه خی طرف ته یاګکس طرف ته اوګوری یا دَ مقصد دَ ځائے نه نظر ورتیرکړی دَ نبی ﷺ نه ئیے دَ دے دواړو نفی کړیده په مَازَاغَ سره دَ اول قسم نفی ده اوپه مَا طَغٰی، سره دَ دویم قسم نفی ده۔

[۱۸] ﴿اٰيٰتِ رَبِّهِ الْكُبْرٰى﴾ لفظ عام دے هغه ټولوحالتونوته شامل دے چه په شپه دَمعراج کښ ئیے لیدلی وؤدَ انبیاء علیهم السلام سره ملاقات کول، جنت اوجهنم لیدل اوپه هغے دواړوکښ دَ هغے اهل متشکل کیدل او دَ هغوی لیدل او جبرئیل علیه السلام په شکل دَ رفرف (شین فرش) کښ لیدل اونور ملائك لیدل۔ اوابن کثیر وئیلی دی چه مِن ایاتِ رَبِّهِ لفظ دلیل دے چه الله تعالیٰ ئیے نه دے لیدلے۔ لیکن څوك چه دَ الله تعالیٰ لیدل ثابتوی نو دَ تیرشوی (ماکذب الفؤاد مارأی) ایت نه ثابتوی او په دے ایت کښ دَ هغے نفی صراحتاً نیشته۔

[۱۹، ۲۰] هرکله چه صدق دَ نبی ﷺ ذکرکړو چه دَ دهٔ خبرے ټوله وحی ده دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه په واسطه دَ جبرئیل سره نواوس مقصد دَ وحی ذکرکوی چه هغه رد دے په شرك دَمشرکانوباندے یعنی دَ مشرکانو دلیل په شرك کولوظن اواتباع دَ هویٰ دے او دلیل دَ نبی ﷺ وحی ده ﴿اللّٰتَ﴾ دَ دے دریو تخصیص ئیے دَ دے وجے نه اوکړو چه دوی دَ مشرکانو په نیز ډیر مشهوراولوئیے معبودان وؤ۔ امام بخاری دَابن عباس رضی الله عنهمانه روایت ذکرکړے دے چه لات یوسړے وؤچه دَحاجیانو دَپاره به ئیے ستوان دَغوړویا اوبوسره لړل او هغوی ته به ئیے دَ خوراك دَپاره ورکول یعنی سخی اوبزرګ وؤ۔ او قرطبی وئیلی دی هرکله چه مړشونومشرکانوبه دَ هغه دَ قبرعبادت کوؤاوهغه چه په کومه ګټه باندے ناست وو اُو ستوان به ئے اوړه کول نوثقیف قبیلے دَهغه ګټے عبادت شروع کړواودَ هغے دَپاره ئیے یوکوټه جوړه کړه او هغه به ئیے په غِلافونوباندے پټه کړے وه او طوافونه به ئے دَ هغے کول ﴿وَالْعُزّٰى﴾ امام نسائی روایت نقل کړے دے چه هرکله مکه فتح کړے شوه نورسول الله ﷺ خالد بن الولید نخله مقام (په مینځ دَ مکه اوطائف کښ) ته اولیږلو چه هغه ځائے کښ عزّٰی وه نوخالد ورته راغے اوپه هغه ځائے کښ دَکیکړدرے اونے وے اویوکوټه وه(چه په هغے کښ به دَ عزّٰی عبادت کیدلو) هغه اونے ئیے پریکړلے اوکوټه ئیے اونړوله اوبیاراغے رسول الله ﷺ ته ئے خبر ورکړو هغه ورته اوفرمائیل واپس لاړشه تاهیڅ کارنه دے کړے (یعنی عزّٰی درنه پاتے شویده) هرکله چه واپس راغے نو منجوران دَعزّٰی ورته راجمع شول اوچغے کړے یا عزّٰی یاعزّٰی (یعنی خالد بن الولید ئے په هغے سره ویرولو) ناساپه یوزنانه بربنډه ببرسړے را بنکاره شوه اوپه سرئیے

اٰبَآؤُكُمْ مَّآ اَنْزَلَ اللّٰهُ بِهَا مِنْ سُلْطٰنٍ ؕ اِنْ يَّتَّبِعُوْنَ اِلَّا الظَّنَّ وَمَا تَهْوَى الْاَنْفُسُ ۚ وَلَقَدْ جَآءَهُمْ مِّنْ
رَّبِّهِمُ الْهُدٰى ﴿٢٣﴾ اَمْ لِلْاِنْسَانِ مَا تَمَنّٰى ﴿٢٤﴾ فَلِلّٰهِ الْاٰخِرَةُ وَالْاُوْلٰى ﴿٢٥﴾ وَكَمْ مِّنْ مَّلَكٍ فِي السَّمٰوٰتِ لَا تُغْنِيْ

ستاسو پلارانو نه دے نازل کړے الله تعالیٰ په دے باندے هیڅ دلیل تابعداری نه کوی دوی مګر دَ ګمان او دَ هغه څیز چه غواړی نفسونه او یقیناً راغلے دے دوی ته دَ طرف دَ رب دَ دوی نه هدایت (۲۳) ایا شته دے د پاره دَ انسان هغه چه ارمان کوی (۲٤) نو خاص الله تعالیٰ لره دے اخرت او دُنیا (۲۵) او ډیر ملائك شته په اسمانونو کښ چه فائده نه شی در کولے

څان له خاورے اچولے نوخالدﷺ هغه په توره باندے قتل کړله بیا واپس راغے نورسول اللهﷺ اوفرمائیل دغه عزّیٰ وه اوبیا به ئے عبادت اونکړے شی نومعلومه شوه چه دا پیرئے وه قریش او بنی کنانه داپه دویمه مرتبه کښ معبوده ګنړله اودَ هغے دَ کوتے نه به ئے طوافونه کول اودَ هغے په نوم باندے ئے نذرونه ورکول نوپه دے لفظ کښ رد دے په مشرکین بالجن باندے ﴿وَمَنٰوةَ﴾ دا هم دَیوانسان نوم وؤ(چه دَ دوی په نیزباندے بزرګ وؤ) او په قدید مقام کښ اوس او خزرج دَ هغه په نوم یوه کوټه جوړه کړے وه او په هغے باندے غلافونه اچولی وؤ دَ هغے طوافونه ئے کول اوپه هغه ځائے کښ ډیر څاروی دَ منات په نوم سره ذبح کول۔ رسول اللهﷺ ابوسفیان یا علی بن ابی طالب اولیږلو اوهغه ئے اونړوله۔

[۲۱،۲۲]دا رد دے په مشرکین بالملائکه باندے ځکه دوی الله تعالیٰ ته نسبت کوؤ چه ملائك دَ هغه لونړه دی اودَ هغوی عبادت ئے هم کوؤ اوځان دَپاره به ئے لوربده ګنړله ﴿قِسْمَةٌ ضِيْزٰى﴾ یعنی دا سے تقسیم که چرے دَ بندګانوپه مینځ کښ اوکړے شی نوهغوی به ورته ظلم اودَ نقصان تقسیم اُوائي نوځه رنګ داسے تقسیم دَ رب العزت جل شانهٗ سره کوئے۔

[۲۳] روستودَ زجرنه ردِ شدید دے په دلیلونودَ مشرکانوباندے۔ ﴿اَسْمَآءٌ﴾ مراد دَ دے نه نومونه دَ الوهیت دی اصلی نومونه مراد نه دی هغه خومواوپلارایخودلے وی۔ نومونه دَ الوهیت داسے وی چه دا فلان بزرګ مشکل کشادے اوفلان غوث اعظم دے ﴿وَاٰبَآؤُكُمْ﴾ کښ اشاره ده چه دوی په دے کښ دَمشرکانوتقلیدکوی ﴿وَمَا تَهْوَى الْاَنْفُسُ﴾ رومیے په باطلوعقیدو کښ استعمالیږی اودا په باطلوعملونو کښ استعمالیږی یعنی شرکی عملونه دَ دوی دَ نفسونوپه خواهشاتوباندے بنا دی اودارنګ ظن کله دَ دلیل نه حاصل شویوی چه په هغے باندے بعضِ مسائلوکښ عمل کیدے شی۔ نومَا تَهوَی الانفس، دَ دے دپاره ذکرکړوچه دا ظن صرف په خواهشاتودَ نفسونودَ دوی باندے بنا دے۔

[۲٤] یعنی هرکله چه معلومه شوه چه دَ دوی دَپاره هیڅ دلیل شرعی نیشته نو اوس په طریقه دَ زجر سره فرمائي چه ایا ہے دلیله خبروپسے تلل دَ انسان دپاره جائزدی (استفهام انکاری دے) یعنی نه دی جائزاوبعضِ دَ تمنا دَ انسان نه دا ده چه دَ غیر الله عبادت کوی او وائي چه دا دَ خیر کار دے اونور بدعات او رسمونه کوی او وائي چه دا ثواب دے۔

[۲۵] دا رد دے په ټولومشرکانوباندے یعنی متصرف دَ دنیا او اخرت صرف الله تعالیٰ دے۔ لات، منات، عزیٰ وغیره لره تصرف او اختیار نیشته او دارنګ دَ انسان دَ تمناګانو پوره کولو اختیار او تصرف خاص دَ الله

شَفَاعَتُهُمْ شَيْـًٔا اِلَّا مِنْۢ بَعْدِ اَنْ يَّاْذَنَ اللّٰهُ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَرْضٰى ﴿٢٦﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ
لَيُسَمُّوْنَ الْمَلٰٓئِكَةَ تَسْمِيَةَ الْاُنْثٰى ﴿٢٧﴾ وَمَا لَهُمْ بِهٖ مِنْ عِلْمٍ ؕ اِنْ يَّتَّبِعُوْنَ اِلَّا الظَّنَّ ۚ وَاِنَّ الظَّنَّ لَا
يُغْنِيْ مِنَ الْحَقِّ شَيْـًٔا ﴿٢٨﴾ فَاَعْرِضْ عَنْ مَّنْ تَوَلّٰى ۙ عَنْ ذِكْرِنَا وَلَمْ يُرِدْ اِلَّا الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا ﴿٢٩﴾ ذٰلِكَ
مَبْلَغُهُمْ مِّنَ الْعِلْمِ ؕ اِنَّ رَبَّكَ هُوَ اَعْلَمُ بِمَنْ ضَلَّ عَنْ سَبِيْلِهٖ ۙ وَهُوَ اَعْلَمُ بِمَنِ اهْتَدٰى ﴿٣٠﴾ وَلِلّٰهِ مَا فِى

سفارش دَ دوی هیڅ فائده مګر روستو دَ دے نه چه اجازت به اوکړی الله تعالی هغه چاته چه او غواړی الله تعالی او رضائے شی (٢٦) یقیناً هغه کسان چه ایمان په اخرت باندے نه لری ضرور نومونه اخلی دَ ملائکو په نومونه دَ زنانۂ سره (٢٧) او نیشته دوی لره پدے باندے هیڅ دلیل تابعداری نه کوی دوی مګر دَ ګمان او یقیناً ګمان چه دے فائده نه ورکوی دَ حق (دَ پټولو) په باره کښ هیڅ فائده (٢٨) نو مخ اوګرځوه دَ هغه چانه چه اوړی دَ ذکر زمونږ نه او نه غواړی مګر ژوند دُنیوی (٢٩) دا اخری مقصد دے دَ علم دَ دوی یقیناً ستا رب ښه پوهه دے په هغه چا باندے چه اوړی دَ لارے دَ هغه نه او هغه ښه پوهه دے په هغه چا چه هدایت مومی (٣٠) او خاص الله تعالی لره اختیار دَ هغه ځیزونو دے چه په

تعالی سره دے۔

[٢٦] دا رد دے په مشرکین بالملائکه باندے یعنی عجزدَملائکوذکرکوی چه مقربین ملائك سفارش بے دَ اجازت نه نشی کولے نولات منات عزیٰ وغیره به ستاسوځه حاجت پوره کړے شی ﴿لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَرْضٰى﴾ مشیت اراده ده او رضا خوښه ده په دواړو کښ فرق دے نو اشاره ده چه سفارش دَ ملائکودپاره یوشرط اراده دَ الله تعالی ده اودویم شرط رضا ده دَ مشفوع لهٗ نه یعنی چه ایمان او توحید والاوی۔

[٢٧] دا بل رد دے په مشرکین بالملائکه باندے چه ملائك مؤنث ګڼړی اومؤنث نومونه ورته وائي او بنات الله ورته وائي دَ دے نه علاوه په فارسئ ژبه کښ فرشته او پښتو ژبه کښ ملائکه (یوته) وئیل منع دی۔

[٢٨] دا بل زجردے په مشرکین بالملائکه باندے چه دَ دوی دغه عقیدے دَشفاعت دَملائکواودَبنات الله کیدلو اودَ مؤنث والی دَملائکوپه دلیله عقیدے دی صرف ظن اوګمان دے ﴿اِنَّ الظَّنَّ لَا يُغْنِيْ مِنَ الْحَقِّ شَيْـًٔا﴾ دارنګ سورۃ یونس (٣٦) کښ تیرشویدی۔ په عقیده اواصولوکښ خودلیل ظنی هر قسم هیڅ فائده نه ورکوی اوپه اعمالواو فروعوکښ هم هغه وخت فائده ورکوی چه دَ اصولو نه مستنبط وی۔ اوهرکله چه دلیل ظنی دَپاره په اصولو کښ سند صحیح نه وی نو په اعمالو کښ هم فائده نه ورکوی۔

[٣٠،٢٩] دَ دے ایت نه ترآخردَ سورت پورے دویم باب دے په دے کښ امردے په اعراض کولوسره او درے اسباب دَ اعراض کولو او درے صفات ئے دَ اعراض کوؤنکو ذکر کړی دی۔ بیا زجر دے په پریخو دونکی دَ دین باندے اودلیل نقلی دَصحف ابراهیم اوموسیٰ نه ذکرکړے دے۔ بیالس صفتونه دَ الله تعالی ذکرکوی په رد دَ شرك کښ اوتخویف دُنیوی په ذکردَ ځلورو اقوامو مکذبینوسره بیا صدق دَ رسول اودَ قیامت دے اوزجردے په انکاردَ قرآن باندے اوآخرکښ تفریع دَ توحید ده په ټول سورت باندے۔ په دے (٢٩)کښ تفریع ده په مخکښ بیان باندے چه هرکله دلیل دَحق وحی ده اودلیل دَمشرکانو ظن اودَ خواهش تابعداری ده نولازم ده په حق والوباندے چه دَهغوی نه مخ واړوی اومراد دَ اعراض نه دَهغوی دَ

السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۙ لِيَجْزِيَ الَّذِيْنَ اَسَآءُوْا بِمَا عَمِلُوْا وَيَجْزِيَ الَّذِيْنَ اَحْسَنُوْا بِالْحُسْنٰى ۚ ٣١
اَلَّذِيْنَ يَجْتَنِبُوْنَ كَبٰٓئِرَ الْاِثْمِ وَالْفَوَاحِشَ اِلَّا اللَّمَمَ ۭ اِنَّ رَبَّكَ وَاسِعُ الْمَغْفِرَةِ ۭ هُوَ اَعْلَمُ بِكُمْ اِذْ اَنْشَاَكُمْ
ع ٢ مِّنَ الْاَرْضِ وَاِذْ اَنْتُمْ اَجِنَّةٌ فِيْ بُطُوْنِ اُمَّهٰتِكُمْ ۚ فَلَا تُزَكُّوْٓا اَنْفُسَكُمْ ۭ هُوَ اَعْلَمُ بِمَنِ اتَّقٰى ٣٢ ع اَفَرَءَيْتَ

اسمانونو کښ دی او هغه چه په زمکه کښ دی دَ دے دپاره چه بدله به ورکوی اللّٰه تعالیٰ هغه چا ته چه بدی ئے کړے ده په سبب دَ عملونو دَ دوی او بدله به ورکوی هغه کسانو ته چه خائسته کارونه ئے کړی دی خائسته بدله (٣١) دا هغه کسان دی چه ډ ډه کوی دَ غټو ګناهونونه او دَ بښکاره بدکارونونه سیوا دَ دے نه چه په زړه کښ ئے تیر شی یقیناً ستا رب فراخ بخښش والا دے هغه بنه پوهه دے په تاسو باندے کله چه تاسو ئے پیدا کړی ئے دَ زمکے نه او کله چه تاسو پټ وئے په ګیډو دَ میندو ستاسو کښ نو ستا ئے مه کوئے دَ ځانونو خپلو هغه بنه پوهه دے په هغه چاچه تقویٰ کوی (٣٢) ایا ته خبر ئے

دین اومسلك نه ځان ساتل دی۔ اوپه دے ایاتونو کښ دَ باطل پرستودرے قبائح ئے ذکر کړیدی اودا اسباب دَ اعراض دی۔ مراد دا چه دَ دُنیا علمونه حاصلوی او په دین باندے نه پوهیږی یا دا چه دَد ین علم سبب دَ دُنیا دَ حصول دَپاره اوګرځوی۔

[٣٢،٣١] یعنی دَ اللّٰه تعالیٰ دَ دغه دواړه ذکرشوی صفتونوعاقبت اوانجام دا دے چه په عدل اوانصاف سره هرفریق له دَ هغه مناسبه جزا ورکوی اوپه دے ایت کښ ذکرد فریقینودے ﴿كَبٰٓئِرَ الْاِثْمِ وَالْفَوَاحِشَ﴾ دا دواړه ګناهونه کبیره دی لیکن فرق ئے په صفت کښ دا دے چه کبائرنه مراد هغه ګناهونه دی چه قرآن اوسنت دَ هغے نه منع کړے اودَ هغے سزا دُنیوی یا اُخروی ئے ذکرکړے وی اګرچه عقل یا طبیعت دَ هغے نه نفرت نه کوی لکه اقسام دَ شرك اولوئے بدعات شول اوالْفَوَاحِشَ، نه مراد هغه دی چه دَ هغے نه ټول عقلمند اوسلیم طبیعت والا نفرت کوی اوپه شرع کښ دَ هغے نه منع کړے شویوی نوعقل واله ئے هم بدګنړی لکه زنا، دروغ، بهتان، حقوق دَبندګانوضائع کول ظلم په بندګانوباندے وغیره ﴿اِلَّا اللَّمَمَ﴾ دَ دے په تفسیرکښ درے اقوال دی اول داد ے چه دا ټولوګناهونو نه شامل دے که صغیره وی اوکه کبیره وی بغیر دَ شرك اوکفرنه په دے شرط سره چه یوځل ارتکاب اوکړی اوبیاتوبه اوکړی دوباره ئے نه کوی۔ او مراد دَدے نه غیر انبیاء دی ځکه چه انبیاء علیهم السلام معصوم دی دَ هرقسم ګناه کولونه ۔ دویم قول دا دے چه اللمم نه مراد صغیره ګناهونه دی یعنی چه په قرآن او حدیث کښ په هغے باندے حد او عذاب نه وی ذکر کړے او په حسناتو سره معاف کیږی ۔ دریم قول دا دے چه مراد دَ دے نه خطراتِ قلبیه دی یعنی بے اختیاره وسوسے چه په زړه کښ تیریږی لیکن عمل پرے نه کوی۔ اوپه ایت کښ انبیاء علیهم السلام هم داخل دی په قرینه دَ حدیث سره چه په هغے کښ دا شعر نقل کړے شوے دے۔

اِنْ تَغْفِرِ اللّٰهُمَّ تَغْفِرْ جَمًّا وَاَیُّ عَبْدٍ لَكَ لَا اَلَمًّا

نوهرکله چه انسان دَ خپل حال دَ عاقبت نه خبرنه دے نو فَلَا تُزَكُّوْٓا اَنْفُسَكُمْ، دَ خپلو ځانونو صفتونه مکوئے چه ځه لوئے مرتبے والایم اوځه جنتی یم داسے ستائینے کول حرام دی۔

الَّذِیْ تَوَلّٰی ﴿۳۳﴾ وَاَعْطٰی قَلِیْلًا وَّ اَكْدٰی ﴿۳۴﴾ اَعِنْدَهٗ عِلْمُ الْغَیْبِ فَهُوَ یَرٰی ﴿۳۵﴾ اَمْ لَمْ یُنَبَّاْ بِمَا فِیْ صُحُفِ مُوْسٰی ﴿۳۶﴾
وَاِبْرٰهِیْمَ الَّذِیْ وَفّٰۤی ﴿۳۷﴾ اَلَّا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰی ﴿۳۸﴾ وَاَنْ لَّیْسَ لِلْاِنْسَانِ اِلَّا مَا سَعٰی ﴿۳۹﴾ وَاَنَّ سَعْیَهٗ

دَ هغه چا په حال باندے چه مخ ئے اړولے دے (۳۳) او اداکړے دے حق لږ او بند شوے دے (۳٤) ایا دَ دهٔ سره علم دے دَ پټو خبرو نو دے وینی (۳۵) ایا نه دے خبر کړے شوے په هغه مضمون چه په صحیفو دَ موسیٰ(علیه السلام) کښ دے (۳٦) او دَ ابراهیم(علیه السلام) کښ هغه چه پوره ئے ادا کړے دے حق (۳۷) چه نشی اوچتولے یو پیتی والا پیتی دَ بل چا (۳۸) او چه نیشته انسان دپاره مګر هغه چه دهٔ کوشش کړے وی (۳۹) او یقیناً کوشش دَ دهٔ

[۳٤،۳۳] ربط دا دے لکه چه خپله ستائینه کول حرام دی نودارنګ امید ساتل چه لګ صالح عمل کول اوبیا دین پریخودل کافی دی دَ نجات دَپاره نودا عقیده ساتل هم منع ده هیڅ فائده نه ورکوی اوپه دے ایاتونو کښ زجردے په یوخاص صفت باندے که په هرچاکښ وی هغه دا دے که یو سجده اللّٰه تعالیٰ ته اوکړی او نور توحید او رسالت نه منی او دا دَ نجات دَپاره پوره ګنړی لکه چه مشرکین مکه دَدے سورة دَ تلاوت په وخت کښ دَ رسول اللّٰه ﷺ سره یوځائے سجده کړے وه او حال داچه توحید او رسالت ئے نه منلو یا یو شخص صرف مونځ کوی او نور دین نه منی او دا دَ نجات دَپاره کافی ګنړی یا یوعالم دعوت دَحق څه زمانه اوکړی اوبیائے پریګدی اویا دعوت دَ یو مسئلے کوی اونورے مسئلے دَ حق نه بیانوی اودا پوره ګنړی اوشیطان انسی یاجنی ورلره دهوکه ورکړے وی چه نور دین ته حاجت نیشته ازارګناه ځما په غاړه دے یا ورته اُوائي چه ستا پلارنیکه دِیرعمل کړے دے هغه ستا دَ پاره پوره دے نوپه دے ایاتونو کښ داسے انسانانوته زورنه ورکوی اودغه دواړه شبهات هم دفع کوی ﴿وَاَكْدٰی﴾ دا اخستلے شویدے دَکدیة نه په طریقه دَمثال سره یعنی چه څوك كوهے كنی اومخے ته ئے ګاګړه راشی نو کنستل پریګدی او عاجز شی نودارنګ دغه انسان لګ کاردَ دین اوکړواونور ورته سخت مشکل ښکاره شونوپریخودلو۔

[۳۵] یعنی دهٔ ته دَ غیب اودَ وحی نه معلومه شویده چه لږدین کښ نجات دے ټول دین ته حاجت نیشته خوداسے نه ده۔

[۳۷،۳٦] صحف موسیٰ نه مراد تورات دے ځکه چه هغه مشتمل وؤ په مختلفو حِصو باندے لکه چه قرآن ته هم صحف مکرّمه وئیلے شویدے یا مراد دَ دے نه نور واړه کتابونه وؤ چه موسیٰ(علیه السلام) ته دَ تورات نه مخکښ ورکړے شویوؤاودَ هغے تعداد په صحیح قول سره ثابت نه دے او دارنګ صحیفے دَ ابراهیم(علیه السلام) دَ هغے هم پوره شمار معلوم نه دے په روایت صحیحه سره۔

[۳۸] دَ دے ایت نه تر(۵۵) پورے مضمون دَ دے صحیفودے اوبل قول دا دے چه تر(٤۲) پورے دے اوپه دے جمله کښ تردید دے دَ اولے وسوسے چه هغه څوك چه دین ئے نیمګړے پریخودلوهغه ته شیطان انسی اوجنّی وسوسه ورکړیده چه دَباقی دین پریخودلو کښ څه ګناه وی نو څه دَ هغے ذمه واریم۔

[۳۹] پدیکښ جواب دے دَ دویمے وسوسے هغه داچه عمل دَ مشرانو پوره دے نو په هغے سره کشران بچ کیدے شی نو دَ کشرانو عمل کولوته څه ضرورت نیشته نو په دے جمله کښ دَ دے تردید دے او ترغیب

سَوْفَ يُرٰى ﴿٤٠﴾ ثُمَّ يُجْزٰىهُ الْجَزَآءَ الْاَوْفٰى ﴿٤١﴾ وَاَنَّ اِلٰى رَبِّكَ الْمُنْتَهٰى ﴿٤٢﴾ وَاَنَّهٗ هُوَ اَضْحَكَ وَاَبْكٰى ﴿٤٣﴾

زر دے چه اوبه لیدلے شی (٤٠) بیا به بدله ورکیدے شی بدله بشه پوره (٤١) او یقیناً ستا رب ته اخری رسیدل دی (٤٢) او یقیناً هغه خندا پیدا کوی او ژړاپیدا کوی (٤٣)

دے چه انسان دِ دَ ځان دَ فائدے دَپاره دَ عمل کولو کوشش او کړی۔

فائده: په عبادتِ بدنیه کښ تلاوت دَ قرآن کریم هم داخل دے دَ هغے ثواب بل چاته دَ بخلو دَپاره هم خصوصی نص نیشته صرف په عموماتو کښ دَ احنافوپه نیزباندے داخل دے لیکن دَ ختم قرآن دَکولودپاره خاص هیئت جوړول چه ډیر کسان جمع شی اوسپارے تقسیم کړی او په جمع سره قرآن لولی څوك ئے په اوچت اواز سره لولی اوځوك په پټه سره دا هیئت جوړول دَ ختم دپاره په هیڅ نص سره ثابت نه دے لکه چه فتاوىٰ برازیه هم لیکلی دی۔ وَيُكْرَهُ اِتِّخَاذُ الطَّعَامِ فِي الْيَوْمِ الْاَوَّلِ وَالثَّالِثِ وَبَعْدَ الْاُسْبُوْعِ وَالْاَعْيَادِ وَنَقْلِ الطَّعَامِ اِلَى الْقَبْرِ فِي الْمَوَاسِمِ وَاتِّخَاذُ الدَّعْوَةِ لِقِرَاءَةِ الْقُرْآنِ وَجَمْعِ الصُّلَحَاءِ وَالْقُرَّاءِ لِلْخَتْمِ اَوْلِقَرَاءَةِ سُوْرَةِ الْاَنْعَامِ اَوِالْاِخْلَاصِ۔ص(٨١) حاشیه دَعالمگیری(ترجمه: اومکروهه دی طعام تیارول په مړی پسے په اوله اودریمه ورځ اوروستودَ هغے نه اوپه اخترونوکښ اوطعام اوړل قبرته په موسم دَ اخترونوکښ اومکروهه دی دعوت جوړول دَپاره دَ قرآن لوستلواوجمع کول دَنیکانواوقاریانودَ ختم دپاره یا سورة انعام اواخلاص دَ لوستلودَپاره) او ابن کثیر وئیلی دی چه دَ هغے عبارت ترجمه داده، اودے ایت نه امام شافعی اودَ هغه تابعدارودلیل نیولے دے چه قرائت چه دے دَ هغے ثواب مړوته نه رسیږی ځکه دا عمل اوکسب دَ صحابه کرامونه نه دے اودَ دے وجے نه نبیﷺ دیته خپل ندے بللے اونه ئے ترغیب ورکړے دے او نه ئے دیته په نص او اشارے سره ارشاد کړیدے اودَ هیڅ یوصحابی نه نقل نه دے شوے اوکه دا دَ خیر کاروے نوصحابه کرامو به زمونږ نه مخکښ کړے وے اوپه باب دَعباداتو کښ په نصوصوباندے اقتصارکیدے شی اونه هغے ته په قیاسونواو اراؤسره ګرځیدل کیدیشی۔ اوپه روح المعانی کښ لیکلی دی چه هرکله قرائت په اجرت سره وی لکه چه اوس ئے اکثرخلق کوی حافظانوته اجرت ورکوی دَ دے دَپاره چه دَ دوی په مړو پسے قرآن اولولی نودَ دے ثواب هغوی ته نه رسیږی ځکه چه دَ هغے ثواب نیشته دَ وجے دَ حراموالی دَ اجرت اخستلونه په قرائت دَ قرآن باندے۔

[٤١،٤٠] ظاهر دَ ایت نه دا ده چه عملونه(په خاص شکل کښ) لیدلے کیدے شی لکه چه سورة زلزال کښ راغلی دی۔

[٤٢] دَ دے ایت نه صفات دَ اللّٰه تعالیٰ ذکرکیږی دَپاره دَ اثبات دَ توحید په دے ایت کښ یوصفت ذکرکړے دے۔

[٤٣نه تر٤٩ پورے] په دے ایاتونوکښ نهه صفتونه دَ اللّٰه تعالیٰ ذکرکوی دَپاره دَ اثبات دَتوحید۔ اوپه دے کښ دوه دوه متضاد ځیزونه ذکرکوی دے ته په علم بدیع کښ الطِّبَاقُ الْمُتَضَاد وئیلے کیږی۔

فائده: په دے صفتونوکښ چه په کوموکښ هیڅ وهم دَشرکت دَ غیراللّٰه نیشته نوپه هغے کښ هو ضمیر فصل ئے نه دے ذکرکړے۔ اوپه کوموصفتونوکښ چه وهم دَشرك وؤنوپه هغے کښ هو ضمیر فصل ئے دپاره دَ تاکید

وَ اَنَّهٗ هُوَ اَمَاتَ وَ اَحْيَا ﴿٤٤﴾ وَ اَنَّهٗ خَلَقَ الزَّوْجَيْنِ الذَّكَرَ وَ الْاُنْثٰى ﴿٤٥﴾ مِنْ نُّطْفَةٍ اِذَا تُمْنٰى ﴿٤٦﴾ وَ اَنَّ عَلَيْهِ
النَّشْاَةَ الْاُخْرٰى ﴿٤٧﴾ وَ اَنَّهٗ هُوَ اَغْنٰى وَ اَقْنٰى ﴿٤٨﴾ وَ اَنَّهٗ هُوَ رَبُّ الشِّعْرٰى ﴿٤٩﴾ وَ اَنَّهٗۤ اَهْلَكَ عَادَا ِۨ الْاُوْلٰى ﴿٥٠﴾
وَ ثَمُوْدَا فَمَاۤ اَبْقٰى ﴿٥١﴾ وَ قَوْمَ نُوْحٍ مِّنْ قَبْلُ ؕ اِنَّهُمْ كَانُوْا هُمْ اَظْلَمَ وَ اَطْغٰى ﴿٥٢﴾ وَ الْمُؤْتَفِكَةَ اَهْوٰى ﴿٥٣﴾
فَغَشّٰىهَا مَا غَشّٰى ﴿٥٤﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكَ تَتَمَارٰى ﴿٥٥﴾ هٰذَا نَذِيْرٌ مِّنَ النُّذُرِ الْاُوْلٰى ﴿٥٦﴾ اَزِفَتِ الْاٰزِفَةُ ﴿٥٧﴾

او یقیناً هغه مړه کول کوی او ژوندی کول کوی (٤٤) او یقیناً هغه پیدا کړیدی جوړے نارینه او زنانه (٤٥) دَ نطفے نه کله چه واړولے شی په رحم کښ (٤٦) او یقیناً دَ هغه په ذمه باندے پیدائش بل دے (٤٧) او یقیناً هغه مالدار جوړوَی او غریب جوړوی (٤٨) او یقیناً هغه رب دَ شعریٰ ستوری دے (٤٩) او یقیناً هغه هلاك کړیدی عادیان زاړه (٥٠) اوثمودیانو نو باقی ئیے نه دی پریخودلی هیڅوك (٥١) اوتباه کړیدے قوم دَ نوح(ﷺ) دَ ټولو نه مخکښ یقیناً دوی وؤ ډیر ظلم کوؤنکی او ډیر سرکش (٥٢) او مؤتفکه کلے دَ برے نه ئیے اوغورځولو هغه (٥٣) نوپټ کړو هغے لره هغه څیز چه پټ ئیے کړو (٥٤) نو په کوم یو دَ نعمتونو دَ رب ستا باندے شك کوئے (٥٥) دا ویره ورکوؤنکے دے دَ ویره ورکوؤنکو مخکنونه (٥٦) را نزدے شو نزدے راتلونکے افت (٥٧)

دَ توحید ذکر کړے دے ﴿رَبُّ الشِّعْرٰى﴾ شعریٰ دوه دی یوشعری القبوردے اودیته مرزم الجوزاء اوشعریٰ یمانیه اوکلب الجَبَّارهم وئیلے کیږی اودویم قسم شعریٰ النمیصا اوشعریٰ الشامیه دے اول قسم دَ جوزاء میاشت نه روستودَ کرمئ په موسم کښ بنکاره کیږی۔ حمیراوخزاعه قبیلودَ اول قسم شعری عبادت شروع کړے وؤ اودَ دے اوله ابتداء ابوکبشه کړے وه چه هغه دَ رسول اللّٰه دَ موردَ طرف نه لرے نیکه وؤاوماسیوا دَ خزاعه اوحمیرنه نوروقبیلودَ عربودَ هغه نه مخالفت کوؤ او وئیل ئیے چه دے صابی دے نوے دین ئیے ایجادکړے دے اودَ دے وجے نه به قریشِ مکه رسول اللّٰه ﷺ ته هم ابن ابی کبشه وئیل یعنی دَهٗ هم دَ هغه پشان نوے دین راوړے دے او رسول اللّٰه ﷺ اودَ هغه صحابوته به دوی صابیان وئیل۔ اودَ شعریٰ دَ عبادت خاص کولو وجه دوی داسے ذکرکوله چه نور ستوری په اسمان کښ په عرض(پلن والی) باندے مزل کوی اوشعریٰ یکښ په طول (اوګدوالی) سره مزل کوی او وئیل ئیے چه دے په دُنیا کښ تاثیر کوؤنکے دے! خو اللّٰه تعالیٰ دَ هغوی په رد کښ او فرمائیل چه په شعریٰ کښ تاثیر اچولو والا او دَ هغه چلوؤنکے خو اللّٰه تعالیٰ دے نوشعریٰ مربوب دے نوتاسودهٗ لره معبودولے ګنړئے؟

[٥٠،٥١،٥٢،٥٣،٥٤] په دے ایاتونوکښ هم ذکردَ تصرف دَ اللّٰه تعالیٰ دے په اهلاك دَ لویو قومونو سره او ورسره تخویف دُنیوی دے په ذکردَ عذاب دَ څلورو قومونوچه تکذیب دَ انبیاء علیهم السّلام ئیے کړے وؤ ﴿اَلْاُوْلٰى﴾ قبیله عاد دوه وؤیو اولیٰ یعنی عاد اِرم اوبل عاد ثمودیانو ته وئیلے کیدلو۔ یا اولیٰ نه مراد هغه دی چه ډیرمخکښ تیرشویدی چه دَ هغوی نه وړاندے بل عاد نه وؤ ﴿اَظْلَمَ﴾ په عقیده کښ او اَطْغٰى په عمل کښ یا اول په حقوقو الهیو کښ اودویم په حقوقودَ بندګانوکښ۔او دلته ئیے پنځم قوم یعنی قوم فرعون ذکرکړے ندے کیدے شی چه مخکښ صحف موسیٰ کښ هغه قوم ته اشاره وه نو دَ دے وجے نه ئیے بیاذکرنه کړو۔

لَيْسَ لَهَا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ كَاشِفَةٌ ﴿٥٨﴾ اَفَمِنْ هٰذَا الْحَدِيْثِ تَعْجَبُوْنَ ﴿٥٩﴾ وَتَضْحَكُوْنَ وَلَا تَبْكُوْنَ ﴿٦٠﴾
وَاَنْتُمْ سٰمِدُوْنَ ﴿٦١﴾ فَاسْجُدُوْا لِلّٰهِ وَاعْبُدُوْا ﴿٦٢﴾ السجدة ع

نیشته هغے لره سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه هیڅوك ښکاره کوؤنکے (٥٨) ایا دَ دے خبرنه تاسو تعجب کوئے (٥٩) او خندا کوئے اومهٔ ژاړئے (٦٠) او تاسوغفلت کوؤنکی ئیے (٦١) نوسجده کوئے اللّٰه تعالیٰ ته اوبندگی کوئے دَ هغه (٦٢)

[٥٥] هرکله چه مخکښ بعضے نعمتونه ذکرکړے شونواوس زجر ورکوی انسان مکذب ته۔

[٥٦] دا صدق دَ رسول دے اواشاره ده تخویف دَ منکرینوته یعنی څنګه چه دَ مخکنو رسولانو په تکذیب کوؤنکو عذاب راغے نودا سے به دَ دے رسول په منکرینوهم عذاب راځی یا دُنیوی یا اُخروی۔

[٥٧،٥٨] داتخویف اُخروی دے ﴿اَلْاٰزِفَةُ﴾ نوم دے دَ نومونودَقیامت نه په معنیٰ دَ نزدے راتلونکی دے اونزدے دے خلقوته۔

[٥٩،٦٠،٦١] دا زجردے په انکاردَ قرآن سره مراد دَ حدیث نه قرآن دے اوځلورقباحتونه دَمنکرینوئیے ذکرکړی دی ﴿وَاَنْتُمْ سٰمِدُوْنَ﴾ دَ سمود معانے اعراض، غفلت، استکبار لهو ولعب کول اوغزلے شعرونه وئیل په طریقه دَ سرودونو سره۔ اشاره ده چه دَ قرآن په مقابله کښ سرودونه وئیل دَ کافرانو کاردے ۔

[٦٢] دا تفریع ده په ټول سورت باندے یعنی هرکله چه ثابت شوه چه دَ دے رسول دلیل وحی ده او تاسو سره صرف ظن او اتباع دَ هویٰ ده بیا ثابت شوه چه اللّٰه تعالیٰ انعامات کوؤنکے دے اورسول او قرآن ئیے حق رالیږلی دی نوفرض ده په تاسو باندے چه سجده او تمام عبادات اللّٰه تعالیٰ لره خاص کړئے ﴿لِلّٰهِ﴾ لام دَپاره دَ تخصیص دے ځکه چه اللّٰه تعالیٰ ته سجده خو مشرکانوهم کوله لیکن دَاللّٰه تعالیٰ نه سیوا نوروخپلومعبودانوته ئیے هم کوله ﴿وَاعْبُدُوْا﴾ دا تعمیم بعد التخصیص دے اولفظ دَ لِلّٰهِ په دے کښ هم مراد دے۔

سُوْرَةُ الْقَمَرِ مَكِّيَّةٌ (٥٤) اٰيَاتُهَا ٥٥ رُكُوْعَاتُهَا ٣

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اِقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ ① وَاِنْ يَّرَوْا اٰيَةً يُّعْرِضُوْا وَيَقُوْلُوْا سِحْرٌ مُّسْتَمِرٌّ ② وَكَذَّبُوْا وَاتَّبَعُوْٓا

ډیر نزدے شو قیامت او اوچودله سپوږمئے (١) اوکه چرے اُوینی دوی نښه نو مخ اړوی او وائی دوی دا جادو پوخ دے (٢) او دروغژن ګڼړی حق لره او تابعداری کوی

سورة القمر

ربط: دَ دے سورة دَ محکمې سورة سره په څو وجوهوسره دے اوله وجه داچه محکمې زجروؤ دَ مشرکانو په عقیده او دلیل باندے نوپه دے سورة کښ تخویف اُخروی دے۔ دویمه وجه داچه اول ذکرشو چه مشرکان دَ خواهش تابع داروی په عقیده کښ نو اوس ذکرکوی چه دَ وجے دَ خواهش نه دَ معجزاتو انکارکوی۔

دعویٰ دَ دے سورة: تخویف اُخروی په ذکر دَ اقتراب دَ ساعت او سبب دَ تخویف تکذیب دے اوهغه سبب دَ عذابونو وؤ په پنځه قومونومکذبینو باندے۔ اوپه سورة کښ رد دَ شرك فی الدعاء اوفی التصرف او (٤٩) کښ ایمان با لتقدیرذکردے اوپه هغے کښ رد دے په شرك فی البرکات باندے یعنی دَ اللّٰه تعالیٰ مقرر اندازه هیڅوك نشی بدلولے۔

خلاصه دَ دے سورة: تخویف اُخروی سرهٔ دَ معجزے نه بیا زجردے دَ منکرینوپه ذکرکولودَ پنځه حالتونودَ هغوی اوتخویف اُخروی دے په ذکردَ پنځه هیبتونودَ قیامت سره بیا تخویف دُنیوی دے په پنځه قومونوتیرشوؤ سره بیا زجردے په پنځه حالاتودَ موجوده منکرینوسره بیا تخویف اُخروی دے په پنځه احوالو سره بیا ذکردَ قدرت دَ اللّٰه تعالیٰ دے په پنځه طریقو سره دَپاره دَ اثبات دَ قیامت او اخرکښ بشارت دے په پنځه طریقو سره۔

تفسیر

[١] دا تخویف اُخروی دے۔یعنی انشقاق دَ قمردلیل دے په صدق دَ دے رسول ﷺ باندے او راتلل دَ دهٔ دنیاته اوله نښه ده دَ قرب دَ ساعت او دارنګ انشقاق دَ قمر دلیل دے په قدرت دَ اللّٰه تعالیٰ باندے چه دارنګ هغه قادر دے دَ ټول عالم په فناکولو باندے۔ او انشقاق القمر معجزه وه چه بسکاره کړے شوے وه مکے والوته او دا حدیث امام بخاری، امام مسلم، ترمذی بیهقی اوډیرومحدثینوپه صحیح اسنادوسره ذکرکړے دے او دَ انس او ابن عباس او ابن عمر او ابن مسعود او جبیر بن مطعم ﷺ نه روایت کړے شویدے انکارکول دَ دے نه بدعةِ اعتقادیه دے۔

[٢] دَ دے نه تر(٦) پورے زجرونه دی اودَ منکرینو پنځه حالات ذکرکوی ﴿مُسْتَمِرٌّ﴾ په دے لفظ کښ دَ اختلاف دَ مادے دَ وجے نه ډیراقوال دی دَ مِرَّة نه په معنیٰ دَ قوی محکم سره دے دَ مرورنه په معنیٰ دَ زائل کیدونکی اوختم کیدونکی سره دے دَ مرارة نه په معنیٰ دَ تریخ والی سره دے یعنی ډیر تیزاثرکوؤنکے دے دَ اِستِمرَارَ، نه په معنیٰ دَ دوام او همیشه والی سره دے ۔ او دارنګ په معنیٰ دَ مشابه دَ یوبل سره اوپه معنیٰ دَ تیریدونکی دَ زمکے نه اسمان ته۔

اَهْوَآءَهُمْ ۭ وَكُلُّ اَمْرٍ مُّسْتَقِرٌّ ۝٣ وَلَقَدْ جَاۗءَهُمْ مِّنَ الْاَنْۢبَاۗءِ مَا فِيْهِ مُزْدَجَرٌ ۝٤ حِكْمَةٌۢ بَالِغَةٌ ۡ فَمَا
تُغْنِ النُّذُرُ ۝٥ فَتَوَلَّ عَنْهُمْ ۘ يَوْمَ يَدْعُ الدَّاعِ اِلٰى شَيْءٍ نُّكُرٍ ۝٦ خُشَّعًا اَبْصَارُهُمْ يَخْرُجُوْنَ مِنَ
الْاَجْدَاثِ كَاَنَّهُمْ جَرَادٌ مُّنْتَشِرٌ ۝٧ مُّهْطِعِيْنَ اِلَى الدَّاعِ ۭ يَقُوْلُ الْكٰفِرُوْنَ هٰذَا يَوْمٌ عَسِرٌ ۝٨ كَذَّبَتْ
قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوْحٍ فَكَذَّبُوْا عَبْدَنَا وَقَالُوْا مَجْنُوْنٌ وَّازْدُجِرَ ۝٩ فَدَعَا رَبَّهٗٓ اَنِّىْ مَغْلُوْبٌ فَانْتَصِرْ ۝١٠

دَ خواهشاتو خپلو او هر کار په یو وخت کیدونکے دے (٣) او یقیناً راغلے دے دوی ته دَ خبرونو نه هغه چه په هغے کښ پوره زورنه وی (٤) پخے خبرے انتها ته رسیدونکی دی نو څه فائده به ورکړی ویره ورکوؤنکی (٥) نو مخ واړوه دَ دوی نه په هغه ورځ کښ چه اواز به اوکړی اواز کوؤنکے یو څیز ناکاره ته (سخت) (٦) کوزے به وی سترګے دَ دوی را اوځی به دوی دَ قبرونونه ګویا که دوی مولخان وی خواره واره (٧) منډے به وهی اواز کوؤنکی طرف ته وائی به کافران دا ورځ سخته ده (٨) تکذیب کړے وؤ دَ دوی نه وړاندے قوم دَ نوح(علیه السلام) نو دروغژن ئیے اوګنړلو بنده زمونږ او دوی اُوئیل لیونے دے او او زورلے شو (٩) نو دُعا ئیے او غوختله دَ رب خپل نه چه یقیناً څه کمزورے یم نو مخما بدله واخله دَ دوی نه (١٠)

[٣] په دے کښ هم دَمنکرینودوه حالتونه په زجرسره ذکردی ﴿مُسْتَقِرٌّ﴾ یعنی قیامت به په خپل وخت قائم کیږی اوجنت والابه په جنت کښ اوجهنم والا به په جهنّم کښ قرارے اومومی یا مراد دَ استقرارنه واقع کیدل دَهرځیزدی په خپله نیته مقرربانده۔

[٤] داهم زجردے چه دوی ته دَ دے معجزے نه مخکښ هم انبیاء راغلی دی اودوی ترینه انکارکړے دے اوترغیب دے قرآن ته۔

[٥] مراد دَ دے نه قرآن دے ﴿بَالِغَةٌ﴾ یعنی انتها ته رسیدلے دے په مواعظو اودلیلونو اولطائفو او احکامو او فصاحت وبلاغت کښ۔ اوپه دے جمله کښ زجردے اوپنځم حالت دَ دوی ذکرکوی۔

[٦، ٧، ٨] هرکله چه دَ منکرینوقبائح ذکرشول نواوس تسلّی ورکوی رسول اللّٰه ﷺ ته اومراد په دے سره دَ دوی بے پرواه کیدل دی ﴿يَوْمَ يَدْعُ﴾ دَ دے نه تخویف اُخروی ذکرکوی په بیان دَ پنځه حالتونوسره۔ ﴿الدَّاعِ﴾ نه مراد اسرافیل(علیه السلام) دے اودَدعوت نه مراد شپیلئ وهل دی دَپاره دَبعث بعد الموت ﴿شَيْءٍ نُّكُرٍ﴾ په دے جمله کښ حشر، حساب، میزان ټولو حالتونوته اشاره ده ﴿جَرَادٌ مُّنْتَشِرٌ﴾ تشبیه دَ ملخانو سره په ډیروالی کښ ده اوجمع کول دَ لویو وړوکښ۔ (مُنْتَشِرٌ) کښ اشاره ده چه په صفونو او قطارونو سره به نه وی ﴿مُهْطِعِيْنَ﴾ په دیکښ ډیرے معانی دی، تیزتلونکی، ستونه اوچتوؤنکی، قصد کوؤنکی سیدها نظرکوؤنکی، غوګونه دَپاره دَ اوریدلو کولاوؤنکی اودا یوبل ته نزدے معانے دی۔

[٩] دَ دے ایت نه پنځه واقعات ذکرکوی دپاره دَتخویف دنیوی یعنی تکذیب دَ قیامت سبب دَ عذاب دے نودا متعلق دے دَ (٣) سره ﴿كَذَّبَتْ﴾ دا اوله واقعه ده دَ قوم دَ نوح(علیه السلام) ﴿وَازْدُجِرَ﴾ دا قول دَ اللّٰه تعالیٰ دے یعنی دوی منع کړی وؤهغه لره دَ دعوت کولونه یا قول دَ منکرینودے یعنی جناتودَ دهٔ دماغ خراب کړی دی۔

فَفَتَحْنَآ اَبْوَابَ السَّمَآءِ بِمَآءٍ مُّنْهَمِرٍ ﴿١١﴾ وَّفَجَّرْنَا الْاَرْضَ عُيُوْنًا فَالْتَقَى الْمَآءُ عَلٰٓى اَمْرٍ قَدْ قُدِرَ ﴿١٢﴾
وَحَمَلْنٰهُ عَلٰى ذَاتِ اَلْوَاحٍ وَّدُسُرٍ ﴿١٣﴾ تَجْرِيْ بِاَعْيُنِنَا ۚ جَزَآءً لِّمَنْ كَانَ كُفِرَ ﴿١٤﴾ وَلَقَدْ تَّرَكْنٰهَآ اٰيَةً فَهَلْ
مِنْ مُّدَّكِرٍ ﴿١٥﴾ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِيْ وَنُذُرِ ﴿١٦﴾ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْاٰنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ ﴿١٧﴾ كَذَّبَتْ

نو را پرانستلے مونږ دروازے دَ اسمان په اوبو رابیدونکو سره (۱۱) او را اویستلے مونږ دَ زمکے نه چینے نو یو ځائے شوے ټولے اوبه په هغه کار چه مقرر کړے شوے وؤ(۱۲) او سور کړو مونږ دهٔ لره په (کشتئ) تختو والا او میخونو والا (۱۳) روانه وه په ستر ګو زمونږ بدل اخستل دی د پاره دَ هغه چا چه نا شکری کړے شو یوه (۱٤) او یقیناً پریخودله مونږ دغه قصه نښه نو ایا شته څوك نصیحت قبلؤنکے (۱۵) نو څه رنګ شو عذاب زما او یرول زما (۱٦) او یقیناً اسان کړیدے مونږ قرآن دپاره دَ نصیحت اخستلو ایا شته دے څوك نصیحت قبلوؤنکے (۱۷) تکذیب کړے وو

[۱۰] دا اجمالی دُعا ده اوتفصیلی دُعا دَ هغه په سورت نوح کښ ذکر کړے ده ﴿مَغْلُوْبٌ﴾ سوال: دا خلاف دے دَ سورة مجادله(۲۱) اوسورة صافات (۱۷۳) نه؟ جواب: دا دے چه دغه ایاتونه روستودَ نصرت دَاللّٰه تعالیٰ نه دی اوپه دے کښ مخکښ دَنصرت نه مغلوبیت مراد دے۔ دویم جواب دا دے چه په هغه ایاتونوکښ غلبه دَحجت اودَ دلیل مراد ده اوپه دے ایت کښ غلبه دَقوت اودَ زورمراد ده اودریم جواب ابن عطیه کړے دے چه مغلوب نه مراد دا دے چه دُعاءِ شرغوختلوکښ مجبوریم۔

[۱۲،۱۱] په دے کښ قبولیت دَ دعاته اشاره ده ﴿فَالْتَقَى الْمَآءُ﴾ مراد دَ دے نه جنس ماء دی یعنی اوبه دَ اسمان او دَ زمکے ځکه چه التقاء په مینځ دَ دوؤیا ډیرو کښ راځی﴿عَلٰٓى اَمْرٍ قَدْ قُدِرَ﴾ یعنی هلاکت دَ دغه قوم چه په تقدیر کښ دَ مخکښ نه لیکلے شوے وؤ چه دوی به په داسے طوفان سره تباه کولے شی او دا اشاره ده مسئلے دَ تقدیرته۔

[۱٤،۱۳] په دیکښ طریقه دَ نجات دَ نوح علیه السلام اودَ هغه دَملګرومراد ده ﴿دُسُرٍ﴾ جمع دَ دساردہ هغه څیزونه چه په هغے سره کشتئ کلکیږی میخونه اوسپنه، لرګی، رسئے ګانے وغیره۔ اودارنګ سینه دَ کشتئ چه په هغے سره اوبه دفع کیږی او شلیدی﴿بِاَعْيُنِنَا﴾ دا دَ متشابهاتونه دے ﴿جَزَآءً لِّمَنْ كَانَ كُفِرَ﴾ دَ (مَنْ) نه مراد نوح علیه السلام دے چه دَ هغه نه انکارکړے شویوؤاوهغه ډیرصبرکړے وؤ نوجزاء په معنیٰ دَ ثواب یا دَ بدله اخستلو ده یا مراد دَ دے نه اللّٰه تعالیٰ دے چه دَ هغه دَ احکامونه کفرکړے شوے وؤ اوجزاء په معنیٰ دَ عقاب اوسزا ده اولام په معنیٰ دَ مِنْ سره دے۔

[۱۷،۱٦،۱۵] په دے ایاتونوکښ تنبیه ده دَپاره دَ نصیحت اخستلودَ واقعے دَ نوح علیه السلام نه په عذاب دَ منکرینواوپه نجات دَمؤمنانو﴿تَرَكْنٰهَآ﴾ دا ضمیر راجع دے ټولے قصے ته یا راجع دے کشتئ ته۔ هغه کشتئ چه دَ دے امت مخکنوخلقولیدلے وه اوروستوهم دَهغه کشتئ تختے په کوهستان اراراط کښ لیدلے شویدی﴿وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْاٰنَ لِلذِّكْرِ﴾ مراد دَ ذکرنه نصیحت اخستل دی او اسانتیا داده چه واقعات دَ تیرشوؤقومونواورسولانوپه اسان لفظونوسره باربارپه مختلفوطریقوسره ذکرکړے شوی دی چه هرذی لسان (چه په عربئے ژبه پوهیږی) هغه ترینه نصیحت اخستلے شی اودا ایت ئیے دَ ځلورقصوسره ذکرکړے

عَادٌ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿١٨﴾ إِنَّا أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا صَرْصَرًا فِي يَوْمِ نَحْسٍ مُّسْتَمِرٍّ ﴿١٩﴾ تَنزِعُ النَّاسَ
كَأَنَّهُمْ أَعْجَازُ نَخْلٍ مُّنقَعِرٍ ﴿٢٠﴾ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿٢١﴾ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن
مُّدَّكِرٍ ﴿٢٢﴾ كَذَّبَتْ ثَمُودُ بِالنُّذُرِ ﴿٢٣﴾ فَقَالُوا أَبَشَرًا مِّنَّا وَاحِدًا نَّتَّبِعُهُ إِنَّا إِذًا لَّفِي ضَلَالٍ وَسُعُرٍ ﴿٢٤﴾ ءَأُلْقِيَ

عادیانو نوځه رنګه وؤ عذاب زما اویره ول زما (۱۸) یقیناً را اولیږله مونږ په دوی باندے سیلئی تیزه په ورځ سپیره همیشه کښ (۱۹) را ښکل ئیے خلقو لره ګویا دوی دی تنے دَ کجورو دَ ویخه وتلے شوے (۲۰) نو څه رنګ وؤ عذاب زما او ویرول زما (۲۱) او یقیناً اسان کړیدے مونږ قرآن دپاره دَ نصیحت نو ایا شته دے نصیحت قبلوؤنکے (۲۲) دروغژن ګنړلے وؤ ثمودیانو ویره ورکوؤنکو لره (۲۳) نودوی اُوئیل ایا یو بنده لره چه زمونږ نه دے تابعداری دے اوکړو دَ هغه یقیناً مونږ به دغه وخت ضرور په ګمراهئ او لیونتوب کښ یو (۲٤) ایا رالیږلے شویده

دے اشاره ده چه هره قصه دَ دے قِصونه دَ تذکّردپاره اسانه کړے شویده۔ نودَ (اَلْقُرْآن) نه مراد هره قصّه ده چه دَ قرآن په عبارت سره لوستلے کیږی۔ یا مراد دَ ذکرنه حفظ دے ځکه دَ سلف صالحینونه نقل دی چه تورات انجیل او زبورسیوا دَ انبیاء علیهم السلام نه امتیانو په یادو سره نه شو یادولے دا دَ قرآن کریم خصوصیت دے چه واړه لوئے او نارینه زنانه ئیے ټول یا بعضے سورتونه او ایاتونه یادولے شی۔ لکه سورة عنکبوت(۲۹)کښ تیرشوی دی۔

[۱۸] دا دویمه واقعه ده چه قوم عاد دَ هودعليه السلام تکذیب کړے وؤ۔ او کذبت ئیے مؤنث ذکرکړے ځکه چه قبیله دَ عادیانو مراد ده اواشاره ده دَ دوی توهین اوتذلیل ته۔

[۲۰،۱۹] دا تفصیل دَعذاب دَ عادیانودے ﴿يَوْمٍ﴾ هغه اوؤه شپے او اته ورځے وے لکه په سورة الحاقه (۷)کښ دی نودلته دَیوم نه مراد جنس ورځ یا مطلق وخت مراد دے ﴿نَحْسٍ﴾ نحوست ئیے په دوی پورے خاص وؤ دَ دوی دَ عذاب دَ وجے نه ﴿مُّسْتَمِرٍّ﴾ یعنی دَ دے عذاب اثرتربرزخ پورے اوبیا حشرپورے همیشه دے اودَ نحوست دَ ورځ دَ شورو (چارشنبه) په باره کښ حدیث صحیح مرفوع متصل ثابت نه دے۔

[۲۲،۲۱] په دے قِصّه کښ ئیے اوله جمله مکرره راوړے ده دپاره دَ اظهار دَ عظمت دَ عذاب دَ دوی یا اول ئیے ذکرکړے دے دَ سبب(تکذیب) سره او دویم ئیے ذکرکړو روستودَ تفصیل دَ عذاب نه دَپاره دَ نصیحت اخستلو۔

[۲۳] دادریمه قِصّه ده ﴿نُذُرِ﴾ جمع دَ نذیر په معنیٰ دَ رسولانو ځکه چه تکذیب دَ یورسول پشان دَ تکذیب دَ ټولو رسولانو دے یا نذیرپه معنیٰ دَ مصدر دے هغه انذارات ترینه مراد دی چه صالحعليه السلام وخت په وخت دوی ته بیان کړی وؤ۔

[۲٥،۲٤] دا تفصیل دَ تکذیب دَ هغوی دے او اوؤه تعبیرونه دَ تکذیب دی ﴿ءَأُلْقِيَ الذِّكْرُ عَلَيْهِ مِن بَيْنِنَا﴾ یعنی مونږدَ دهٔ نه مالدار اوغوره یو نودے ولے خاص کړے شو په وحی سره شپږم دے کذاب دے۔

الذِّكْرُ عَلَيْهِ مِنْ بَيْنِنَا بَلْ هُوَ كَذَّابٌ اَشِرٌ ﴿۲۵﴾ سَيَعْلَمُوْنَ غَدًا مَّنِ الْكَذَّابُ الْاَشِرُ ﴿۲۶﴾ اِنَّا مُرْسِلُوا
النَّاقَةِ فِتْنَةً لَّهُمْ فَارْتَقِبْهُمْ وَاصْطَبِرْ ﴿۲۷﴾ وَنَبِّئْهُمْ اَنَّ الْمَآءَ قِسْمَةٌۢ بَيْنَهُمْ ۚ كُلُّ شِرْبٍ مُّحْتَضَرٌ ﴿۲۸﴾ فَنَادَوْ
صَاحِبَهُمْ فَتَعَاطٰى فَعَقَرَ ﴿۲۹﴾ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِيْ وَنُذُرِ ﴿۳۰﴾ اِنَّآ اَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ صَيْحَةً وَّاحِدَةً فَكَانُوْا
كَهَشِيْمِ الْمُحْتَظِرِ ﴿۳۱﴾ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْاٰنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ ﴿۳۲﴾ كَذَّبَتْ قَوْمُ لُوْطٍۭ بِالنُّذُرِ ﴿۳۳﴾
اِنَّآ اَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ حَاصِبًا اِلَّآ اٰلَ لُوْطٍ ؕ نَجَّيْنٰهُمْ بِسَحَرٍ ﴿۳۴﴾ نِّعْمَةً مِّنْ عِنْدِنَا ؕ كَذٰلِكَ نَجْزِيْ مَنْ

وحی په دهٔ باندے دَ مینځ زمونږ نه بلکه دے دے ډیر دروغژن لوئے کوؤنکے (۲۵) زر دے دوی ته به معلومه شی صبا چه څوك دے ډیر دروغژن لوئے کوؤنکے (۲۶) یقیناً مونږ لیږؤنکی یو اوښه دپاره دَ ازمائش دَ دوی نو انتظار اوکړه دَ دوی او صبر اوکړه (۲۷) او خبر ورکړه دوی لره چه اوبه تقسیموی دَ دوی په مینځ کښی هر نمبر دَ اوبو ته به حاضری کیدلے شی (۲۸) نو دوی اواز ورکړو خپل مشرته نو را واخستله ئے توره نو قتل ئے کړه (اوښه) نو څه رنګ وؤ عذاب زما او یره ول زما (۳۰) یقیناً مونږ را اولیږله په دوی باندے چغه یوه نو شول پشان دَ ذرے ذرے شوی شپول دَ شپول جوړوؤنکی (۳۱) او یقیناً اسان کړے دے مونږ قرآن دپاره دَ نصیحت ایا شته دے څوك نصیحت قبلوؤنکے (۳۲) دروغژن کړے وؤ قوم دَ لوط(علیه السلام) ویره ورکوؤنکی (۳۳) یقیناً را اولیږلو مونږ په دوی باندے باران دَ کانړو سیوا دَ کورنئے دَ لوط(علیه السلام) نه بچ کړل مونږ هغوی په وخت دَ پیشمنی کښ (۳۴) دَ وجے دَ احسان دَ طرف زمونږ نه دغه شان بدله ورکوؤ هغه چا ته

[۲۶] دا زجراوتخویف دے ﴿غَدًا﴾ مراد دَ دے نه راتلونکے وخت دے یعنی عذاب دَ دُنیا یا ورځ دَ قیامت۔

[۲۸،۲۷] دا ذکردَمعجزے دے دَپاره دَاثبات دَ صدق دَ صالح(علیه السلام) ﴿وَنَبِّئْهُمْ﴾داهم طریقه دَ فتنے (امتحان) وه اودَ دے تقسیم یووجه داوه چه اوبه لګے وے په یو ورځ دَ ناقے اودَ نوروحیواناتونه رسیدلے۔ دویمه وجه داوه چه دَ دوی حیوانات به دَ هغه ناقے نه ویریدل دَ هغے سره یوځائے کیدلے نه شو۔

[۳۰،۲۹] په دے کښ ذکردَ سبب دَ عذاب دَ هغوی دے ﴿فَتَعَاطٰى﴾ زړه ورتیائیے اوکړه په نیولو دَ اوښے سره یا دهٔ اونیوله تورے لره دَ پاره دَ ټکړے کولو دَ هغه اوښے۔

[۳۲،۳۱] داتفصیل دَ عذاب دَ هغوی دے ﴿كَهَشِيْمِ الْمُحْتَظِرِ﴾ محتظردَ حظیره نه ماخوذ دے اوحظیره هغه ځائے ته وئیلے کیږی چه راګیر کړیشی په شپول دَغنویا په دیوال سره اومحفوظ وی اواکثر دَګلهو بیزو جاړے ته وئیلے کیږی نومحتظِردَ هغے جوړونکی ته وئیلے شی۔ (هَشِيْم) دَ هشم نه دے اوهشم ماتول اوذرّے ذرّے کولوته وئیلے کیږی نوهشم په معنیٰ دَ مهشوم سره دے یعنی هغه اوچے غنے دَشپول دَجاړے چه ګلهے بیزے ئے په خپلوخپو سره ذرے ذرے کړی پدیکښ اشاره ده چه په دغه چغه دَ عذاب سره دَ دوی اړوکی پوره اوچ شول او بیا دَ یوبل نه جُدا جُدا شول۔

[۳۵،۳۴،۳۳] دا څلورمه قصه ده دپاره دَ تخویف دُنیوی په سبب دَتکذیب سره ﴿بِالنُّذُرِ﴾ هغه امورمراد دی چه په هغے سره دَ دوی انذارکړے شوے وؤیا دا جمع دَ نذیرده مراد دَ دے نه رسولان دی ځکه

شَكَرَ ﴿٣٥﴾ وَلَقَدْ اَنْذَرَهُمْ بَطْشَتَنَا فَتَمَارَوْا بِالنُّذُرِ ﴿٣٦﴾ وَلَقَدْ رَاوَدُوْهُ عَنْ ضَيْفِهٖ فَطَمَسْنَآ اَعْيُنَهُمْ فَذُوْقُوْا
عَذَابِيْ وَنُذُرِ ﴿٣٧﴾ وَلَقَدْ صَبَّحَهُمْ بُكْرَةً عَذَابٌ مُّسْتَقِرٌّ ﴿٣٨﴾ فَذُوْقُوْا عَذَابِيْ وَنُذُرِ ﴿٣٩﴾ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا
الْقُرْاٰنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ ﴿٤٠﴾ وَلَقَدْ جَآءَ اٰلَ فِرْعَوْنَ النُّذُرُ ﴿٤١﴾ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا كُلِّهَا فَاَخَذْنٰهُمْ
اَخْذَ عَزِيْزٍ مُّقْتَدِرٍ ﴿٤٢﴾ اَكُفَّارُكُمْ خَيْرٌ مِّنْ اُولٰٓئِكُمْ اَمْ لَكُمْ بَرَآءَةٌ فِي الزُّبُرِ ﴿٤٣﴾ اَمْ يَقُوْلُوْنَ نَحْنُ

چه شکر کوی (۳۵) او یقیناً ویره ئیے ورکړے وه دوی ته دَ نیولو زمونږ نه نو دوی شك اوکړو په ویرولو کښ (۳۶) او یقیناً دوی غوختنے کړیوے دَ هغه نه په باره دَ میلمنو دَ هغه کښ نو ورانے کړے مونږ سترګے دَ هغوی نو اوشکئے عذاب زماا و ویرول زما (۳۷) او یقیناً صبا راغے دَ وخته په دوی باندے عذاب چه همیشه وؤ (۳۸) نو اوشکئے عذاب زما او ویرول زما (۳۹) او یقیناً اسان کړے دے مونږ قرآن دپاره دَ نصیحت ایا شته څوك نصیحت قبلوؤنکے (٤٠) او یقیناً راغلے وؤ فرعونیانو ته ویره ورکوؤنکی (٤١) دروغژن اوګنړل دوی ایاتونه زمونږ ټول نو اونیول مونږ دوی په نیولو دَ زوراور ذات چه پوره قدرت والادے (٤٢) ایا کافران ستاسو د زمانے غوره دی دَ دغه تیر شوی کافرانو نه ایا شته تاسو لره بچ والے دَ عذاب نه په کتابونو کښ (٤٣) بلکه دوی وائي مونږ

چه تکذیب دَ یورسول پشان دَ تکذیب دَ ټولورسولانودے ﴿بِسَحَرٍ﴾ دَ شپے آخری شپږمے حصّے ته وئیلے شی اودغه وخت دَ برکاتودے ﴿نِعْمَةً﴾ اشاره ده چه دَ دوی نجات دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه احسان وو، په اللّٰه تعالیٰ باندے دَ هغے هیڅ زورنه وو نو دا دلیل دے چه جزا دَ نیك اعمالوپه اللّٰه تعالیٰ باندے واجب نه ده لکه چه معتزله داسے وائي۔

[۳۸،۳۷،۳۶]په دے کښ درے حالات دَمنکرینوذکرکوی ﴿وَلَقَدْ اَنْذَرَهُمْ﴾ پدیکښ دفع دَ عذر دَ منکرینوده ﴿وَنُذُرِ﴾ مراد دَ دے نه تاوان اوناکاره عاقبت دَ انذاردے ﴿مُسْتَقِرٌّ﴾ دوام اوهمیش والے دَ عذاب دا دے چه په دغه عذاب سره هلاك شول او ورپسے متصل عذاب دَ برزخ دے اوپه هغے پسے متصل عذابونه دَ جهنم دی چه دَ هغے انتها نیشته۔

[٤٠،٣٩] ﴿وَلَقَدْ يَسَّرْنَا﴾ دَ دے په تکرارکښ اشاره ده چه هره یوه قصّه دَ دے قصّونه دَ عبرت اونصیحت اخستلودپاره کافی ده او اسانه ده ﴿فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ﴾ کښ اشاره ده چه داسے نصیحت قبول کړئ چه په هغے سره دَ عذاب دَ تیرشوی منکرینونه بچ شئ۔ معلومه شوه چه سبب دَ بچ کیدلودَ عذاب نه صرف تذکردَ قرآن دے۔

[٤٢،٤١] په دے کښ پنځمه واقعه ذکرکوی دَهلاکت دَ فرعونیانو په سبب دَ تکذیب سره۔ په اول ایت کښ په دوی باندے الزام حجت ذکرکوی په رالیږلودَ منذرینوسره اوپه دویم ایت کښ سبب دَ عذاب اوبیائے عذاب ذکرکړے دے ﴿بِاٰيٰتِنَا كُلِّهَا﴾ مراد دَ دے نه هغه نهه معجزات دی چه په سورة اعراف کښ ذکرشویدی ﴿عَزِيْزٍ مُّقْتَدِرٍ﴾په دیکښ اشاره ده چه فرعون دَ ځان دپاره دَ عزت اواقتدار دعویٰ کوله لیکن هغه دعویٰ باطله وه ځکه چه مغلوب او تباه شونو معلومه شوه چه عزت والا(غالب) قدرت والا صرف اللّٰه تعالیٰ دے۔

جَمِيعٌ مُّنْتَصِرٌ ﴿٤٤﴾ سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ وَيُوَلُّونَ الدُّبُرَ ﴿٤٥﴾ بَلِ السَّاعَةُ مَوْعِدُهُمْ وَالسَّاعَةُ أَدْهَىٰ وَأَمَرُّ ﴿٤٦﴾
إِنَّ الْمُجْرِمِينَ فِي ضَلَالٍ وَسُعُرٍ ﴿٤٧﴾ يَوْمَ يُسْحَبُونَ فِي النَّارِ عَلَىٰ وُجُوهِهِمْ ذُوقُوا مَسَّ سَقَرَ ﴿٤٨﴾ إِنَّا
كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ ﴿٤٩﴾ وَمَا أَمْرُنَا إِلَّا وَاحِدَةٌ كَلَمْحٍ بِالْبَصَرِ ﴿٥٠﴾ وَلَقَدْ أَهْلَكْنَا أَشْيَاعَكُمْ فَهَلْ

غټه ډله یو بدله اخستونکی (٤٤) زر دے شکست به ورکړیشی دے ډلے ته او دوی به اوګرځوی شاګانے (٤٥) بلکه قیامت وخت مقرر شویدے دَ دوی او قیامت ډیر هیبت ناك او ډیر تریخ دے (٤٦) یقیناً مجرمان په ګمراهئ او په اور کښ دی (٤٧) په هغه ورځ چه راښکلے کیږی به دوی په اور کښ په مخونو خپلو باندے او ځکئے خوند دَ سقر (سوځیدلو) (٤٨) یقیناً مونږ هر څیز پیدا کړیدے مونږ هغه په تقدیر سره (٤٩) او نه دے حال د قیامت مګر یوه شپیلئ ده په شان دَ رپ دَ سترګے (٥٠) او یقیناً هلاك کړیدی مونږ ملګری ستاسو نو ایا شته دے

[٤٣،٤٤،٤٥] پدے ایاتونوکښ دَ روستنومنکرینوپنځه حالات ذکرکوی اوحاصل دادے چه په مخکنو قومونو دَ عذابونو ذکرتاسوو اوریدلونو پدے موجودو باندے دَ عذاب دَ راتلو سبب خوشته چه کفر دَد وی دے لیکن دَ عذاب دَ راتللونه هیڅ مانع نیشته په اول ایت کښ نفي دَ دوه موانعوذکرکړے ده یا به دوی دَمخکنونه غوره وی یابه په مخکنوکتابونومنزلوکښ دَ دوی دَپاره برائت(امن دَ عذاب) ذکرکړے شوے وی لیکن دا دواړه خبرے نیشته او په دویم ایت کښ یومانع په طریقه دَ زجرسره ذکرکړے دے یعنی دوی وائی مونږ غټ جماعت یو او دَ دُشمن نه بدله اخستلے شو ایا دَ دے وجے نه په دوی عذاب نشی راتللے نودَ دے ګمان رد په دریم ایت کښ دے په دوه طریقوسره اول هزیمت (شکست) دَ دوی دویم شاګانے ګرځول یعنی عاجز کیدل دَ مقابلے نه ﴿سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ﴾ په دیکښ تخویف دُنیوی دے په طریقه دَ پیشنګوئیے سره او دا پیشنګوئي په ورځ دَ بدرکښ رشتیا شوله لکه حدیث بخاری کښ راغلی دی چه نبی ﷺ په ورځ دَ بدر په قبّه (دَ څرمنے خیمه) کښ وؤ او دُعا ئیے او غوښتله چه یا اللّٰه غواړم ستا عهد او وعده اے اللّٰه که ته غواړے چه ستا بندګی دِاوُنه شی دَ نن نه روستو هیڅرے "نو ابوبکر ﷺ دَ هغه لاس اونیوو او اُوئیل ئیے پوره ده تالره اے رسول دَ اللّٰه تعالیٰ" او په دُعاکښ ډیر زور اوکړو نورسول اللّٰه ﷺ را اُوتلو تپوپونه ئیے وهل (خوشحالیدو) په زغره کښ او دا ایت ئیے اولوستلو سيهزم الجمع ويولون الدبر او ابن عباس رضی اللّٰه عنهما نه نقل دے چه دَ دے ایت دَ نزول نه تر واقعے دَ بدر پورے اُوه کاله فاصله وه۔

[٤٦،٤٧،٤٨] په دے ایاتونوکښ تخویف اخروی دے په اول ایت کښ خاص دَ بدرمشرکانودَپاره او روستودوه ایاتونو کښ دَ ټولومجرمانودَپاره اودا تخویف هم په پنځه طریقوسره دے۔ اوفرق دَ ادهیٰ اوامرّیودا دے چه دَ اول اثرباطنی اوروحانی دے اودَ دویم اثرظاهری اوبدنی دے دویم دا دے چه دَ امراثرپه خوراك څښکاك کښ دے اودَ ادهیٰ اثرپه نوروحواسوباندے دے ﴿ضَلَالٍ وَسُعُرٍ﴾ ضلال په دُنیا کښ دے اوسُعُرجمع دَسعیرپه اخرت کښ دے یا سعرپه معنیٰ دَجنون دے نودواړه په دُنیا کښ دی یا ضلال په معنیٰ اوریدل دَلارے دَ جنت نه په اخرت کښ نو دواړه په اخرت کښ دی۔

[٤٩] دَ دے ایت نه تر(٥٣) پورے دَ اللّٰه تعالیٰ دَ تصرف اودَ قدرت نه پنځه نمونے ذکرکیږی اودا ټول

مِنْ مُّدَّكِرٍ ﴿٥١﴾ وَكُلُّ شَيْءٍ فَعَلُوْهُ فِي الزُّبُرِ ﴿٥٢﴾ وَكُلُّ صَغِيْرٍ وَّكَبِيْرٍ مُّسْتَطَرٌ ﴿٥٣﴾ اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ فِيْ جَنّٰتٍ وَّنَهَرٍ ﴿٥٤﴾ فِيْ مَقْعَدِ صِدْقٍ عِنْدَ مَلِيْكٍ مُّقْتَدِرٍ ﴿٥٥﴾ ع

نصیحت قبلوؤنکے (۵۱) او هر څیز (کار) چه کوی دا خلق نو په صحیفو دَ ملائکو کښ دی(۵۲) او هر وړوکے عمل اولوئے عمل لیکلے شویدے (۵۳) یقیناً متقیان به په باغونو او نهرونو کښ وی (۵٤) په مجلس دَ رشتیاؤ کښ په نیز دَ لوئے بادشاه پوره قدرت والا (۵۵)

دَسورت دَ دعویٰ سره تعلق لری چه هغه اثبات دَ قیامت دے اودَ دے ایت ربط دَ مخکښ سره دادے چه ساعت(قیامت) کښ دَ دے منکرینوشك دے نوزرولے نه راځی حاصل دَجواب دادے چه اللّٰه تعالیٰ دَ دُنیا دَ وجود اودَ فنا اودَ قیامت دَ راتللودَپاره تقدیردَ اوقاتو کړے دے دَ هغے نه خلاف نه واقع کیږی ﴿خَلَقْنٰهُ بِقَدَرٍ﴾ دا اشاره خلق ته ده چه مقید دے په تقدیرسره نومعلومه شوه چه خلق دَ تقدیرنه غیردے۔ دا ایت صریح نص دے په مسئله دَتقدیرکښ ابن کثیر وئیلی دی چه تقدیرعلم دَ اللّٰه تعالیٰ په ټولوخیزونوباندے مخکښ دَ وجود دَهغے نه اولیکل دَ هغے دی مخکښ دَپیداکولونه اوخطیب شربینی وئیلی دی چه قَدَرٍ، قضا اوحکم مضبوط اوتقسیم محدود اوپوره قوت اوکلك تدبیر په وخت معلوم اومکان معین دے چه لیکلے شویدے په لوح محفوظ کښ مخکښ دَ واقع کیدلونه۔ دَ دے ایت په تفسیرکښ عام مفسرینودَ سلفوصالحینودَ اقوالونه ثابت کړیده چه دا ایت نازل شویدے په رد دَ منکرینو دَ تقدیر کښ چه هغه معتزله وؤاوپه دے زمانه کښ منکرین حدیث (پرویزیان) او دهریان خلق دی۔

[۵۰] دا هم ذکردَ تصرف کلی دَ اللّٰه تعالیٰ دے ﴿وَمَآ اَمْرُنَآ﴾ دا عام دے هریوکارته اوقیام دَ قیامت ته هم شامل دے لکه سورة نحل (۷۷) کښ تیرشویدی ﴿اِلَّا وَاحِدَةٌ﴾ یعنی امردَ یوکاردَکیدلو دَپاره یوځل کوؤیبابیا تاکیدته حاجت نه وی نو هغه کارپه اراده دَ اللّٰه تعالیٰ پسے داسے زرموجود شی لکه دَستر کے رَپ نوواحدة نه مراد مرّة واحدة دے یا مراد دَ دے نه کلمة واحدة ده چه هغه کلمه دَ کُنْ ده په نورو ایاتونو کښ ذکرشویده۔ اوپه باره دَقیام دَقیامت کښ خوډیره مبالغه مقصد وه نو سورة نحل کښ اقرب هم ذکرکړے دے۔

[۵۱] دا ذکردَ بل تصرف الٰهی دے او تخویف دُنیوی دے۔

[۵۲،۵۳] په دے کښ دَ اللّٰه تعالیٰ دوه تصرفات نورذکرکړی دی۔ اودَ زُبُرنه مراد صحیفے دَ ملائکو (کراماً کاتبین) دی دا غوره قول دے او ﴿صَغِيْرٍ وَّكَبِيْرٍ﴾ مراد دَ دے نه ټول انسانان او عملونه او ګناهونه دی بلکه ټول ځیزونه دی چه په هریوکښ لوئے او وړوکے شته دے ﴿مُسْتَطَرٌ﴾ لیکلے شویدے په لوح محفوظ کښ چه کتاب دَ تقدیر دے دَ دے نه تقدیر ثابت شو۔

[۵٤،۵۵] روستودَ تخویف اودَ ذکردَ حال دَ منکرینونه حال دَ متقیانو او بشارت دَ هغوی ذکرکوی په پنځه طریقو سره ﴿صِدْقٍ﴾ دا صفت دَ مکان دے مراد دَ دے نه جنت دے چه لغواوګناهونه پکښ نیشته اوحاصلیږی په سبب دَ صدق سره نو اضافت دَ مسبب دے سبب دے ﴿عِنْدَ مَلِيْكٍ مُّقْتَدِرٍ﴾ دا دواړه صیغے دَ مبالغے دی یعنی پوره بادشاهی اوپوره تصرف او قدرت والاچه هیڅ قسم نقصان اوعجز وربانديے نه راځی او دغه ذات صرف اللّٰه تعالیٰ دے۔



سورة الرَّحمٰن

اوبل نوم ئیے عروس القرآن دے۔

ربط: دَ دے دَ ماقبل سره په ډیرو وجوهو سره دے اوله وجه داده چه محکښ سورة کښ دَاللّٰه تعالیٰ خاص اوعام تصرفات ئیے ذکرکړل دلته په هغے باندے تفریع کوی دَ اثبات رحمانیت دَ اللّٰه تعالیٰ۔ دویمه وجه داده چه په هغه سورة کښ تخویف اوبشارت اجمالی ذکرکړے وؤ نوپه دے سورة کښ دَ هغے دواړو تفصیل دے۔

دعویٰ دَ سورة داده: اثبات دَ رحمانیت دَ اللّٰه تعالیٰ سره دَ رد دَ شرك فی البرکات نه په اول او اخرکښ په ذکر دَ دیرش لویونعمتونو دُنیویوسره تفصیلاً اوپه ذکردَ لفظ الآءِ سره یودیرش کرته اجمالاً۔ ځکه چه الآء غټوغټو نعمتونوته وئیلے کیږی۔

خلاصه دَ سورة داده: اول دعویٰ دَ سورة ده په الرحمٰن سره په ذکر دیرش انعاماتو دُنیویه باطنی روحانی اوظاهری سره او دا عقلی دلیلونه هم دی او پدیکښ فبأی الآء ربکما تکذبان جمله اته کرته ذکرکړے ده بیا په تخویف اُخروی سره ذکردَ انعاماتو دے او په هغے کښ دغه جمله اووه ځله ذکرکړے ده بیا په بشارت اُخرویه سره ذکر دَ انعاماتو اخرویو دے او په هغے کښ شپاړس کرته دغه جمله ذکر شویده۔

فائِده اوله داده: چه حدیث کښ راغلی دی(دَ ابن کثیر دَ کلام نه معلومیږی چه حدیث حسن دے) چه رسول اللّٰهﷺ دا سورت پیریانوته لوستلے وؤاوهغوی دَ هرے جملے (فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبَانِ) سره دا جواب کوؤچه (لَابِشَیْءٍ مِّن نِعَمِكَ رَبَّنَا نُكَذِّبُ فَلَكَ الْحَمْدُ) چه په هیڅ یونعمت دَ نعمتونوستانه اے ربه مونږانکار نه کوؤ نوستادپاره صفتونه دَ الوهیت دی۔ نوبیائے صحابه کرامونه هم دَ دے جواب کولو ترغیب ورکړو۔

دویمه فائِده: داجمله یو دیرش کرته په دے سورة کښ راغلے ده اګرچه دَلفظ په لحاظ سره تکراردے لیکن دَ مقصد په لحاظ سره تکرار نیشته ځکه چه په هرځائے کښ دَ دے جملے جدا جدا مقصد دے لکه چه روستو به معلومه شی۔

دریمه فائِده : دا جمله دَ نعمتونو سره اته کرته ذکرکړے ده ځکه چه اصول دَ نعمتونواته قسمونه دی۔(١) باطنی(٢) ظاهری (٣) انفسی (٤) افاقی (٥) بری (٦) بحری (٧) علوی (٨) اوسفلی۔ اودا ټول قسمونه دلته ذکرشویدی اودا جمله ئیے دَ تخویف اُخروی سره اُوه ځله ذکرکړے ده اشاره ده چه دَ جهنم اُوه دروازے دی دَ ټولونه دَ بچ کیدلو سبب دَ تکذیب نه ځان ساتل دی اودَ بشارت سره ئیے اولاً اته کرته اوثانیاً هم اته کرته ذکرکړے ده اشاره ده چه دَ جنت اته دروازے دی که اول قسم جنتونه دی اوکه دویم قسم دی۔

اَلرَّحْمٰنُ ۙ﴿١﴾ عَلَّمَ الْقُرْاٰنَ ؕ﴿٢﴾ خَلَقَ الْاِنْسَانَ ۙ﴿٣﴾ عَلَّمَهُ الْبَيَانَ ﴿٤﴾ اَلشَّمْسُ وَالْقَمَرُ بِحُسْبَانٍ ۙ﴿٥﴾ وَّالنَّجْمُ وَالشَّجَرُ
يَسْجُدٰنِ ﴿٦﴾ وَالسَّمَآءَ رَفَعَهَا وَوَضَعَ الْمِيْزَانَ ۙ﴿٧﴾ اَلَّا تَطْغَوْا فِي الْمِيْزَانِ ﴿٨﴾ وَاَقِيْمُوا الْوَزْنَ بِالْقِسْطِ وَلَا
تُخْسِرُوا الْمِيْزَانَ ﴿٩﴾ وَالْاَرْضَ وَضَعَهَا لِلْاَنَامِ ۙ﴿١٠﴾ فِيْهَا فَاكِهَةٌ ۙ وَّالنَّخْلُ ذَاتُ الْاَكْمَامِ ﴿١١﴾ وَالْحَبُّ

هغه رحمان دے (١) تعلیم ئے ورکړے دے دَ قرآن (٢) پیدا کړیدے انسان (٣) خودلے ده هغه ته طریقه دَ مقصد ښکاره کولو (٤) نمر او سپوږمئے (چلوی) دپاره دَ حساب (٥) او بوټی او اونے سجدے کوی (٦) او اسمان اللّٰه تعالیٰ پورته کړیدے او ایخے ده تله (٧) (وئیلی دی) چه دَ حدنه مه تیریږئے په تول کولو کښ (٨) او برابر وئے تَلل (تول کول) په انصاف سره او کمے مه کوئے په تول کولو کښ (٩) او زمکه اللّٰه تعالیٰ ایخے ده دپاره دَ خلقو (١٠) په هغے کښ میوے دی او کجورے کسوړو والا (١١) او دانے دی

تفسیر

[٢] دا ذکرَ اول نعمت دے۔ دا نعمت دینیه روحانیه دے اودَ ټولونعمتونو نه ډیرلوے نعمت دے۔ او تعلیم دَ قرآن دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه نازلول او اسانول دَپاره دَ لوستلو او نصیحت اخستلو دی۔

[٤،٣] په دے کښ دوه نعمتونه ذکردی ﴿عَلَّمَهُ الْبَيَانَ﴾ مراد دَ بیان نه قوت دَ نطق کیخودل په ژبه اوشونډواومرئے دَ انسان کښ په داسے طریقه چه خپل مقصد ښکاره کولے شی اوقرآن هم لوستلے شی اوبیانولے شی۔ په انسانی صفتونواوقوتونو کښ ئے دا صفت په ذکرکولوسره دَ دے وجے نه خاص کړوچه تمیز دَ انسان دَ نورو حیواناتونه په قوت دَ بیان سره دے۔

[٥] پدیکښ ئے دوه انعامات ذکرکړی دی۔ تیرشوی انعامات باطنیه سبب دَ نُورِ باطنی وؤ اودا انعامات ظاهریه سبب دَ نور ظاهری دے۔

[٦] دا هم دوه انعامات دی ﴿النَّجْمُ﴾ هغه بوټی دے چه پنلے باندے ولاړنه وی اوشجرهغه بوټی دے چه په خپلے پنلے تنے باندے ولاړوی نودا دواړه دَزمکے نعمتونه دی روستودَ ذکرکولودَ اسمانی نعمتونونه۔ ﴿يَسْجُدٰنِ﴾سجده کول دَ هرمخلوق دَهغوی دَ شان سره مطابق وی اودلالت کوی په انقیاد او تابعدارئے کولودَ حکمونودَ اللّٰه تعالیٰ۔

[٧] دانور دوه انعامات ذکرکوی ﴿الْمِيْزَانَ﴾ په معنیٰ مشهورے سره دے یعنی تله۔ اوپه معنی دَ عدل اوپه معنیٰ دَ شریعت اوپه معنیٰ دَ قرآن سره هم مفسرینوذکرکړے دے اومیزان دَ اخرت ترینه هم مراد کیدے شی۔

[٩،٨] پدیکښ په باره دَمیزان کښ درے اداب ذکرکوی اول اَلَّا تَطْغَوْا هرکله چه مراد دَ میزان نه قرآن اوشریعت وی نو طغیان په هغے کښ تحریف کول دی اومخالفت کول دی په طریقه دَ انکارتردے پورے چه عنادی اودهری کافرشی۔ اوچه دَ میزان نه عدل مرادوی نوطغیان په هغے کښ زیاتے کول دی دَپاره دَځان په دهوکے کولوسره۔اودویم ادب ﴿وَاَقِيْمُوا الْوَزْنَ﴾ بنا په اول باندے وزن دَ دلیلونوقرآنیه دے دَپاره دَ اثبات دَتوحید اوعمل اوعقیده برابرکول په ایاتونودَ قرآن اوپه شریعت سره او بناپه دویم وزن دَ حقوقو دَ خلقواودَخالق دے دَپاره دَقائم کولودَعدل اوبناپه دریم اقامت دَ وزن په لاس سره تله برابرکول اوقسط په زړه سره۔ دریم ادب ﴿وَلَا تُخْسِرُوا الْمِيْزَانَ﴾ نوبنا په اول باندے په دلیلونواو ایات قرآنیه کښ نقصان کول په طریقه دَ شرك کولواوفسق کولودا نقصان کول دی په حقوقودَ اللّٰه تعالیٰ کښ اوپه طریقه دَ ظلم کولونودا نقصان دے په حقوق العباد کښ او بنا په دویم

ذُو الْعَصْفِ وَ الرَّيْحَانُ ﴿١٢﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿١٣﴾ خَلَقَ الْاِنْسَانَ مِنْ صَلْصَالٍ كَالْفَخَّارِ ﴿١٤﴾
وَ خَلَقَ الْجَآنَّ مِنْ مَّارِجٍ مِّنْ نَّارٍ ﴿١٥﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿١٦﴾ رَبُّ الْمَشْرِقَيْنِ وَ رَبُّ الْمَغْرِبَيْنِ ﴿١٧﴾

بوسو والا او خوشبو ئیے دی (١٢) نو دَ کوم یو دَ احسانونو دَ رب خپل انکار کوئے تاسو دواړه (١٣) پیدا کړے دے انسان (آدم علیه السلام) دَ کړنګار کوؤنکے خټے نه چه پشان دَ ټکری ده (١٤) او پیدا کړیدے جان دَ خالصے لمبے دَ اورنه (١٥) نو دَ کوم یو دَ احسانونو دَ رب خپل انکار کوئے تاسو (١٦) رب دَ دوؤ مشرقونو او رب دَ دوؤ مغربونو دے (١٧)

نقصان دَ عدل کښ ظلم کول دی او بنا په دریم باندے بخس (کمے) کول په تَلَلوَ کښ دَ بل چا دَپاره۔

[١٠،١١] په دے ایاتونو کښ درے انعامات ذکر کوی ﴿الْاَنَام﴾ انسانانو اوپیریانو دواړوته شامل دے اوټولو زنده سروته هم وئیلے کیږی ﴿وَالنَّخْلُ﴾ دائیے دَ فاکهة نه جدا ذکر کړودَ دوه وجونه اول داچه نخل کښ فاکهة اوغذا دواړه دی دویمه دا چه نخل کښ دَ ټولواونواومیوؤنه زیاتے فائدے دی ﴿الْاَكْمَام﴾ هغه کسوړے دَ لستونړی په شکل سره چه په اول حالت کښ دانے دَکجورے پکښ پټے وی یا اوچوی نو دانے (غنچکونه) ترینه بنکاره شی۔

[١٢] په دے کښ درے نعمتونه ذکر کړی دی ﴿ذُو الْعَصْفِ﴾ هغه پانړے دَفصلونوچه اوچے شی اوخاروی ئے خوری ﴿وَالرَّيْحَانُ﴾ رزق او کشمالو اوهربوتے چه خوشبو کوی۔

[١٣] تکرارد دے جملے دَ وجے دَ اختلاف دَ نعمتونونه دے اودَ تاکید دَ الزام دَ حجت دَپاره دے۔ اومخاطب په دے سره هغه پیریان اوانسانان دی چه کفراوشرك اوناشکری کوی په قرینه دَتکذبان سره یعنی اے خلقوداسے نعمت اوښائیے چه هغه الله تعالیٰ نه وی پیدا کړے اوستاسومعبودانو پیدا کړے وی یا الله تعالیٰ هغه نعمت په ملګرتیا دَ دے معبودانوسره پیدا کړے وی اودَ هغے وجے نه تاسوهغوی لره شریکان جوړوئ ﴿تُكَذِّبٰنِ﴾ یوتکذیب دا دے چه هغه نعمت نعمت نه ګنړی لکه نزول دَ قران۔ دویم داچه نعمت دَ الله تعالیٰ طرف نه نه ګنړی۔ دریم داچه په هغه نعمت پیدا کولوکښ دَ الله تعالیٰ سره شریك ګنړی لکه نعمتونه ظاهریه دُنیویه۔

[١٤] دا ذکردَ خاص نعمت دے روستودَ عام نه یعنی په (٣) کښ عام انسان مراد وؤ اوپه دے آیت کښ خاص ادم علیه السلام مراد دے او دلیل (نعمت) انفسی دے روستودَ نعمتونوافاقیونه۔

[١٥] پدیکښ بل خاص نعمت ذکر کوی الجان، ابوالجن دے ظاهردا ده چه دے غیردے دَ ابلیس نه هغه خو ابوالشیطان دے ﴿مَارِجٍ﴾ لمبه دَاورچه درے رنګونه پکښ بنکاره کیږی سور،زیړاوشین اودَ دے سره لوګے ګډنه وی اوداپه تیزاورکښ وی۔

[١٦] په الآءِ کښ اشاره ده چه دواړه ایاتونوکښ ډیرنعمتونه ذکردی پیدائش دَ آدم او دَ نوع دَ انسان اودَ صلصال نه په خاص کیفیت سره پیداکول اودا سلسله جاری ساتل۔ اوپیدائش دَ جان اودَنوع دَ جن اودَ مارج نه په خاص کیفیت سره پیداکول۔ اودَ نسل جاری ساتل۔ اودَ دواړو په ماده دَ خلقت کښ فرق کول اودَ هغے په وجے سره دَ دوی په اخلاقواو طبیعتونوکښ فرق پیداکول دا ټول بے شماره نعمتونه دی په انسانانو اوپه پیریانو دواړو باندے پدے انعاماتوکښ یوهم سبب دَ انکار اودَ شرك نشی کیدلے۔

[١٧،١٨] ﴿الْمَشْرِقَيْنِ﴾ دَموسم دَ اوړی اودَ ژمی جُدا جُدا مشرق وی اودارنګ مغربونه ئے هم جُدا

فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿١٨﴾ مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ يَلْتَقِيٰنِ ﴿١٩﴾ بَيْنَهُمَا بَرْزَخٌ لَّا يَبْغِيٰنِ ﴿٢٠﴾ فَبِاَيِّ
اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٢١﴾ يَخْرُجُ مِنْهُمَا اللُّؤْلُؤُ وَالْمَرْجَانُ ﴿٢٢﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٢٣﴾ وَلَهُ
الْجَوَارِ الْمُنْشَـَٔاتُ فِي الْبَحْرِ كَالْاَعْلَامِ ﴿٢٤﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٢٥﴾ كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ ﴿٢٦﴾ وَّيَبْقٰى

نو دَ کوم دَ احسانونو دَ رب خپل نه انکار کوئ تاسو (۱۸) ګلۍ ئے روان کړی دی دوه دریابونه چه یوځائے چلیږی (۱۹) په مینځ دَ دواړو کښ نااشنا پرده ده چه په یوبل باندے زیاتے نه کوی (۲۰) نو دَ کوم یو دَ احسانونو دَ رب خپل نه انکار کوئ تاسو (۲۱) را اوځی دَ دے دواړونه ملغلرے غټے او نرئے (۲۲) نو دَ کوم یو دَ احسانونو دَ رب خپل انکار کوئے تاسو (۲۳) او خاص دَ اللّٰه تعالیٰ په اختیار کښ دی روانے کشتئے چه اوچتے کړے شویوی په دریاب کښ پشان دَ غرونو (۲۴) نو دَ کوم یو دَ احسانونو دَ رب خپل انکار کوئے تاسو (۲۵) ټول هغه څوك چه په زمکه باندے دی فنا کیدونکی دی (۲۶) او باقی به وی

جُدا وی یا مشرق اومغرب دَ شمس جدا دے اودَ قمرجُدا دے یا دَ ایشیادَ ملکونومشرق اومغرب جدا دے اودَ امریکے وغیره مشرق اومغرب جدا دے۔

[۱۹، ۲۰] روستودَ برّی نعمتونونه بحری انعامات ذکرکوی ﴿اَلْبَحْرَيْنِ﴾ خوږے اوبه چه دَ اسمان نه راوریږی اوپه زمکه کښ ئے دَ هغے نه نهرونه سیندونه خوږونه جوړ کړی دی اواکثرد هغے نه یوځائے شی او اخر ئے مالګین سمندر ته اورسوی او دواړه قسمونه ئے یوځائے روان کړی دی دَ دے دواړو په مینځ کښ ابتداء نه دَ زمکے او دَ اسمان پرده ده اوهرچه یوځائے روان شی نودَ دوی په مینځ کښ معنوی قدرتی پرده ده ﴿لَا يَبْغِيٰنِ﴾ په یوبل باندے بغی نشی کولے دَپاره دَ دے چه اوبه ئے ګډے وډے نشی او دَ دواړونه چه کومے فائدے مقصود دی هغه خرابے نشی۔

[۲۱] اَلَآءِ په مخکښ کښ پنځه نعمتونه ذکرشول۔

[۲۲، ۲۳] پدیکښ دوه انعامات ذکرکوی او دَ فائدودَ بحرین ئے دا فائِده جُدا ذکرکړه ځکه چه دَ لؤلؤ مرجان فائدے هم دَ عاموفوائدونه جدا دی۔ دَکانړو دَ خواصو علم لرونکی اکثردا فائِدے پیژنی اودَ دے نه دوایانے اوکُشتے هم دَ علاج دَبیمارو دپاره جوړیږی ﴿مِنْهُمَا﴾ دا ضمیرتثنیه پخپله معنیٰ باندے دے یعنی دا لؤلؤ مرجان یقیناً دَ دواړو اوبو دَ اختلاط نه پیداکیږی مثال ئے دَ نر او دَ مادے دے۔ ابن جریر وئیلی دی چه اوبه دَ باران دَسمندرپه کولاؤ صدفونوکښ را اُووریږی اوصدفونه بندشی نوپه هغے کښ ملغلرے جوړے شی یوه یا ډیرے اودَ دے مشاهده هم بعضِ خلقوکړیده۔

[۲۴، ۲۵] دَبحری نعمتونونه بل لوی نعمت ذکرکوی ﴿اَلْمُنْشَـَٔاتُ﴾ یعنی غاړے ئے اوچتے دی پشان دَغرونواو پدیکښ اشاره ده لویولویوبحری جهازونوته اودا اعجازدَ قرآن دے ځکه چه داسے لوے لوے جهازونه خو روستوزمانوکښ پیدا شول او قرآن دَ هغے ذکرمخکښ کړے وؤ۔

[۲۶، ۲۷، ۲۸] په دیکښ بله نوعه دَ نعمتونوذکرکوی چه هغه پنځه دی۔ فناء دَکل، بقاء، وَجْهَ دَرب، جلال، اکرام اوپه دویم ایت کښ پنځه صفتونه ذَاللّٰه تعالیٰ ذکرکړی دی ﴿كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا﴾ مراد دَ مَنْ نه پیریان اوانسانان ټول دی ځکه چه په دے سورة کښ مخاطبه دَ دوی سره ده ﴿وَجْهُ رَبِّكَ﴾ دَ ابن عباس

وَجْهُ رَبِّكَ ذُو الْجَلٰلِ وَالْاِكْرَامِ ﴿٢٧﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٢٨﴾ يَسْـَٔلُهٗ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ
كُلَّ يَوْمٍ هُوَ فِيْ شَاْنٍ ﴿٢٩﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٣٠﴾ سَنَفْرُغُ لَكُمْ اَيُّهَ الثَّقَلٰنِ ﴿٣١﴾ فَبِاَيِّ
اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٣٢﴾ يٰمَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ اِنِ اسْتَطَعْتُمْ اَنْ تَنْفُذُوْا مِنْ اَقْطَارِ السَّمٰوٰتِ وَ

ذات دَ رب ستا چه خاوند دَ لوئے شان او عزت دے (۲۷) نو دَ کوم یو دَ احسانونو دَ رب خپل انکار کوئے تاسو (۲۸) محتاج دی اللّٰه تعالیٰ ته هغه څوك چه په اسمانونو او زمکه کښ دی هر وخت هغه په جدا جدا کار کښ دے (۲۹) نو دَ کوم یو دَ احسانونو دَ رب خپل انکار کوئے تاسو (۳۰) زر دے چه اوزګار به شم تاسو ته اے دوؤ درنو (۳۱) نو دَ کوم یو دَ احسانونو دَ رب خپل انکار کوئے تاسو (۳۲) اے ډلے دَ پیریانو او دَ انسانانو که چرے وس لرئے تاسو دَ وتلو دَ غاړودَ اسمانونو او

رضی اللّٰه عنهما نه قرطبی نقل کړے دے چه وجهَ نه مراد ذات او وجود دَ اللّٰه تعالیٰ دے او شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمة اللّٰه نه نقل دی چه لفظ وجهَ مشترك دے کله په یومعنیٰ وی او کله په بله معنیٰ سره اوټولے حقیقی معانے دی نودیته تاویل دَ متشابه نه وئیلے کیږی۔ ﴿رَبِّكَ﴾ **سوال:** په سورهٔ کښ نورخطابات دَ تثنیے دی اودا خطاب ئے په مفرد سره ذکرکړو؟ **جواب:** دا دے چه په دیکښ هریوکس ته خطاب دے دَپاره دَ دے چه هریو شخص په خپله فنا اودَ رب تعالیٰ په بقا باندے عقیده اوساتی۔

[۲۹، ۳۰] هرکله چه فنا دَمخلوق اوبقا دَ اللّٰه تعالیٰ ذکرشوه نوپدے ایت کښ دَ اللّٰه تعالیٰ استغناء اواحتیاج دَمخلوقاتو هغه ته ذکرکوی ﴿كُلَّ يَوْمٍ﴾ مراد دَ یوم نه هروخت دے ﴿شَاْنٍ﴾ مراد دَ دینه هغه کارونه اوتصرفات دَ الوهیت دی چه اللّٰه تعالیٰ ئے ښکاره کوی روستودَتقدیرنه دا نه چه اوس ئے شروع کوی اودا مقصد دے دَهغه قول چه (شُئُوْنٌ يُبْدِيْهَالَاشُئُوْنٌ يُبْتَدِيْهَا) اوهغه کارونه، شپه او ورځ بدلول رابدلول څوك ژوندی کول څوك مړه کول، دَچانه غم اومصیبت لرے کول اوپه چا باندے راوستل دَمصیبت اوغم، دَچاګناهونه معاف کول، چاله عزت ورکول، چاله ذلت ورکول، څوك فقیرکول څوك مالدارکول، دَچا دُعا قبلول، اودَ چا ردکول، چاله ځوئے ورکول، چاله لور ورکول، دغه شان بے شماره کارونه چه دَهغے نه هیڅ وخت خالی نه وی۔

[۳۱، ۳۲] دَ دُنیوی نعمتونونه روستو اُخروی حالات ذکرکوی چه په هغے کښ هم نعمتونه دی اوتخویفات (ویرے ورکول) هم دی۔ په دے ایت کښ وعده او وعید دواړه دی کله چه ﴿سَنَفْرُغُ﴾ معنیٰ داسے اوشی چه ستاسوثوابونه یا عذابونه به ځه پوره درکړم، اویا وعید دے صرف کله چه معنیٰ داوی زردے چه ځه به ستاسوسره حساب اوکړم۔ امام بخاری ذکرکړی دی چه مراد دَ دے نه حساب کول دی۔ ﴿اَلثَّقَلٰنِ﴾ مراد دَ دے نه جن اوانس دی دَ دے نوم (ثقلان) ډیرے وجے دی اول داچه دَ دوی دواړوشان دَ نوروحیواناتونه اوچت دے ځکه چه مکلف دی په عبادت کولوسره ۔دویمه وجه داچه دَ دوی دَ بدنونو بوج په زمکه باندے ډیردے په نسبت دَ نوروځیزونوسره۔ دریمه وجه داچه مراد دَ دے نه ګناهګاران دی چه په بوجونودَګناه سره درانه دی۔

الْاَرْضِ فَانْفُذُوْا ؕ لَا تَنْفُذُوْنَ اِلَّا بِسُلْطٰنٍ ﴿٣٣﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٣٤﴾ يُرْسَلُ عَلَيْكُمَا شُوَاظٌ مِّنْ
نَّارٍ ۙ وَّنُحَاسٌ فَلَا تَنْتَصِرٰنِ ﴿٣٥﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٣٦﴾ فَاِذَا انْشَقَّتِ السَّمَآءُ فَكَانَتْ وَرْدَةً
كَالدِّهَانِ ﴿٣٧﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٣٨﴾ فَيَوْمَئِذٍ لَّا يُسْـَٔلُ عَنْ ذَنْۢبِهٖٓ اِنْسٌ وَّلَا جَآنٌّ ﴿٣٩﴾
فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٤٠﴾ يُعْرَفُ الْمُجْرِمُوْنَ بِسِيْمٰهُمْ فَيُؤْخَذُ بِالنَّوَاصِيْ وَالْاَقْدَامِ ﴿٤١﴾ فَبِاَيِّ

دَ زمکے نه نو اوځئ نه شئ وتلے مګر په زور سره (٣٣) نو دَ کوم یو دَ احسانونو دَ رب خپل نه انکار کوئے تاسو (٣٤) را لیږلے کیدے شی به په تاسو باندے خالصے شغلے دَ اورنه او تور لوګے نو بدله به نشئ احستلے تاسو (٣٥) نو دَ کوم یو دَ احسانونو دَ رب خپل انکار کوئے تاسو (٣٦) نو کوم وخت چه اوشلیږی اسمانونه نو شی به سور ګلاب پشان دَ څرمنے رنګ کړے شوے (٣٧) نو دَ کوم یو دَ احسانونو دَ رب خپل انکار کوئے تاسو (٣٨) نو په دغه ورځ به ټپوس نه شی کیدے دَ ګناه دَ یو مجرم دَ بل انسان او نه دَ پیری نه (٣٩) نو دَ کوم یو دَ احسانونو دَ رب خپل انکار کوئے تاسو (٤٠) پیژندلے کیدے به شی مجرمان په نښو دَ هغوی سره نو نیولے کیدے به شی دَ ټیکلو نه او دَ خپونه (٤١) نو دَ کوم یو

[٣٤،٣٣]د اخطاب به په اخرت کښ وی۔ اومراد دا دے چه دَجزانه په هیڅ طریقه نشی خلاصیدلے او اسمانونه اوزمکه دَ اخرت مراد دی یا دا خطاب اوس په دُنیا کښ دے اشاره ده چه تاسو اوس هم عاجزئ دَ اللّٰه تعالیٰ دَ قضا او تقدیرنه په ټول عالم کښ، دَتختیدلو هیڅ طرف نه شئ موندلے اونه دَ دے نه بهروتلے شئے نوبیا ولے دَاللّٰه تعالیٰ طاعت نه کوئ﴿اِلَّا بِسُلْطٰنٍ﴾ دا قوت اوغلبه ممتنع اومحال ده ځکه دَدے نه روستووَاَنّٰی لَکُم، پټ دے۔

[٣٦،٣٥] دامستقل تخویف اُخروی دے دَمکذیبنودپاره خاص دے﴿شُوَاظٌ﴾شنے لمبے دَ اورچه لوګے ورسره خلط نه وی اوسرولمبوته هم وئیلے کیږی﴿وَنُحَاسٌ﴾هغه لوګے تورچه لمبے ورسره خلط نه وی اوتانبه وِیلے کړیشوے ته هم وئیلے کیږی۔

[٣٨،٣٧] داهم تخویف دے په ذکرد هیبت دَقیامت سره اوپه دیکښ جواب دَ وهم دے هغه دا چه دا اسمانونه اوزمکے منع کؤنکی دی انسان لره دَ نفوذنه که دالرے کړے شی نوبیا نفوذکولے شی حاصل دَجواب دا دے اسمانونه به اوچوی لیکن بیا هم دا انسانان نفوذ نشی کولے﴿وَرْدَةً﴾سور ګلاب ته وئیلے کیږی اوسوراس ته هم وئیلے کیږی﴿کَالدِّهَانِ﴾سرے څرمنے ته وئیلے شی یا جمع دَ دُهن ده تیلوته وئیلے شی یعنی اسمانونه به سره شی پشان دَګلاب او ویلے به شی اوبهیږی به پشان دَتیلو۔

[٤٠،٣٩] داهم تخویف اُخروی دے حرف دَ فا دلالت کوی چه دَ اسمان دَحالت بدلولونه روستوبه قیامت اوورځ دَ حساب شروع شی۔ ابن کثیر وئیلی دی چه مراد دَ دے نه دَ عذرونودروازه بندول دی لکه په سورة مرسلات (٣٦) کښ دی یعنی دَ (لَا یُسْئَلُ) نه مراد دَ عذرکولوټپوس دے یا مراد دا دے چه په اول وخت دَ حشراودارنګ په اورکښ دننه دَ دوی دَ ګناهونو ټپوسونه نه کیږی بلکه په موقف دَ حساب کښ ټپوس کیدیشی۔ اوابوالعالیه نه نقل دی چه دَ یومجرم دَ ګناهونوټپوس به دَ بل مجرم نه نشی کیدے او اکثر مفسرینو وئیلی دی چه دَ استعلام (یعنی دَ څان خبرولو) دَپاره ټپوس نیشته بلکه دَ زورنے دَپاره به ټپوسونه وی۔

الَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٤٢﴾ هٰذِهٖ جَهَنَّمُ الَّتِيْ يُكَذِّبُ بِهَا الْمُجْرِمُوْنَ ﴿٤٣﴾ يَطُوْفُوْنَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ حَمِيْمٍ
اٰنٍ ﴿٤٤﴾ فَبِاَيِّ الَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٤٥﴾ وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ جَنَّتٰنِ ﴿٤٦﴾ فَبِاَيِّ الَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٤٧﴾
ذَوَاتَآ اَفْنَانٍ ﴿٤٨﴾ فَبِاَيِّ الَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٤٩﴾ فِيْهِمَا عَيْنٰنِ تَجْرِيٰنِ ﴿٥٠﴾ فَبِاَيِّ الَآءِ رَبِّكُمَا

دَ احسانونو دَ رب خپل انکار کوئے تاسو (٤٢) دا جهنم دے هغه جهنم چه انکار کوؤ دَ دے نه مجرمانو (٤٣) څې راځي به دوی په مینځ دَ دے او په مینځ دَ خوټکیدلو اوبو سختو ګرمو کښ (٤٤) نو دَ کوم یو دَ احسانونو دَ رب خپل نه انکار کوئے تاسو (٤٥) او هغه چا د پاره چه ویریږی دَ پیش کیدلو دَ رب خپل نه قسما قسم باغونه دی (٤٦) نو دَ کوم یو دَ احسانونو دَ رب خپل نه انکار کوئے تاسو (٤٧) ډیرو څانګو والا به وی (٤٨) نو دَ کوم یو دَ احسانونو دَ رب خپل نه انکار کوئے تاسو (٤٩) په هغے کښ قسما قسم چینے دی چه بهیږی به (٥٠) نو دَ کوم یو دَ احسانونو دَ رب خپل نه

[٤٢،٤١] دا تخویف اُخروی دے یعنی روستودَسوال (حساب) نه سزا شروع کیږی ﴿بِسِيْمٰهُمْ﴾ یعنی هغه ګناهونه به مصوّرشی دَمجرمانوپه بد نونوباندے اودارنګ تورووالے دَمخونواوړوندکونړګونګے اوپه مخونوباندے روانیدل دا ټولے دَ دوی نښے به وی ﴿فَيُؤْخَذُ بِالنَّوَاصِيْ﴾ داجمع دَ نَاصِية ده هغه ویخته چه په تندی آویزان وی اودا سے ویخته ساتل طریقه دَ مجرمانو ده دَسنت دَ نبی ﷺ نه مخالف ده۔ یا به ناصیه اوقدمونه وریوځائے کړی اویوملك به ئے اونیسی اوجهنم ته به ئے اوغورځوی یا دا چه یو ملك به ئے دَ ناصیه نه اونیسی اوبل ملك به ئے دَ قدمونونه اونیسی۔

[٤٣،٤٤،٤٥] هرکله چه ذکرشونیول دَمجرمانودَ سراوخپونه نواوس ذکرکوی محل دَګذارولودَ هغه چه جهنم دے ﴿بَيْنَهَا وَبَيْنَ حَمِيْمٍ﴾ یعنی جهنم چه طبقه دَ اورده اوځائے دَ حمیم طبقه دَخوراك ځښاك ده دَ دے دواړوپه مینځ کښ به ډیرځی راځی یعنی دَ اوبونه به نه مړیږی نو بیا بیا به ځی او ارام به ورته نه ملاویږی۔

[٤٦،٤٧] پدیکښ بشارت دے روستودَ ذکردَ تخویف اخروی نه اودا ټول دَجنت نعمتونه ذکرکوی۔ دوه قِسمه جنتونه ذکرکوی ځکه چه دَ رب العزت نه خوف کوونکی دوه قِسمه مؤمنان دی یوالسابقون اودویم اصحاب الیمین اوهرقِسم جنت سره یؤلس یؤلس نعمتونه ئے ذکرکړی دی ﴿وَلِمَنْ خَافَ﴾ دا خوف حاصلیږی په اطاعت کولوسره فرائض اداکول اوډګناهونونه اجتناب کول اوډیراستغفاراوتوبه کول۔ اولفظ دَ مَن عام دے جن اوانس دواړوته شامل دے اوپدے سورة کښ دواړه مخاطب دی نو ابن کثیر ذکرکوی چه دا دلیل دے چه پیریان مؤمنان به هم جنت ته داخلیږی پشان دَ انسانانو ﴿مَقَامَ رَبِّهٖ جَنَّتٰنِ﴾ پدے تثنیه کښ ډیراقوال مفسرینوذکرکړی دی لیکن غوره دا ده چه دا تثنیه دَ تکرار او دَ کثرت دپاره ده یعنی ډیر جنتونه دی دَ یوقسم نه اوهریوجنت نه اودَ دے وجے نه روستو فیهن ضمیردَ جمع ذکر دے اوهریو جنت په بے شماره نعمتونو باندے مشتمل دے چه په هغے باندے لفظ الآءِ، دلالت کوی۔

[٤٨،٤٩] دَ دے آیت نه صفتونه دَ دے جنتونو ذکرکوی۔ دا اول صفت دے۔

تُكَذِّبٰنِ ﴿٥١﴾ فِيْهِمَا مِنْ كُلِّ فَاكِهَةٍ زَوْجٰنِ ﴿٥٢﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٥٣﴾ مُتَّكِـِٕيْنَ عَلٰى فُرُشٍ
بَطَآئِنُهَا مِنْ اِسْتَبْرَقٍ ؕ وَجَنَا الْجَنَّتَيْنِ دَانٍ ﴿٥٤﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٥٥﴾ فِيْهِنَّ قٰصِرٰتُ
الطَّرْفِ ۙ لَمْ يَطْمِثْهُنَّ اِنْسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا جَآنٌّ ﴿٥٦﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٥٧﴾ كَاَنَّهُنَّ الْيَاقُوْتُ
وَالْمَرْجَانُ ﴿٥٨﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٥٩﴾ هَلْ جَزَآءُ الْاِحْسَانِ اِلَّا الْاِحْسَانُ ﴿٦٠﴾ فَبِاَيِّ

انکار کوئے تاسو (٥١) په دوی کښ به دَ هرے میوے نه ډیر قسمونه وی (٥٢) نودَکوم یو دَ احسانونو دَ رب خپل نه انکار کوئے تاسو (٥٣) ارام به کوی دوی په بسترو باندے چه استرونه دَ هغے به دَ غټو ریښمونو نه وی او میوے را ټولول دَ دے باغونو نزدے دی (٥٤) نو دَ کوم یو دَ احسانونو دَ رب خپل نه انکار کوئے تاسو (٥٥) پدے باغونو کښ به (زنانه) خکته کوؤنکی وی سترګے خپلے نه به وی رسیدلے دوی ته هیڅ انسان مخکښ دَ دوی نه او نه هیڅ پیرے (٥٦) نو دَ کوم یو دَ احسانونو دَ رب خپل نه انکار کوئے تاسو (٥٧) ګویا که دوی دی یاقوت (په رنګ کښ)او مرجان (په صفائے کښ)(٥٨) نو دَ کوم یو دَ احسانونو دَ رب خپل نه انکار کوئے تاسو (٥٩) نه ده بدله دَ توحید (اخلاص) مګر جنت دے (٦٠) نودَکوم یو

[٥١،٥٠] په دیکښ دویم صفت ذکرکوی دَ حسن بصری په روایت سره یو چینه دَ تسنیم اوبله دَ سلسبیل ده یا دلته هم تثنیه دپاره دَ تکثیرده۔

[٤٣،٥٢] په دے کښ دریم صفت ذکرکوی ﴿زَوْجٰنِ﴾ صحیح دا ده چه تثنیه کښ معنیٰ دَکثرت ده اومراد دَ دے نه بے شماره قسمونه دی یعنی په یوقسم میوه (لکه انګور) کښ به بے شماره قسمونه وی۔

[٥٥،٥٤] پدیکښ خلورم نعمت ﴿مُتَّكِـِٕيْنَ﴾ اوپنځم ﴿عَلٰى فُرُشٍ﴾ اوشپږم ﴿بَطَآئِنُهَا﴾ او اوم ﴿وَجَنَا الْجَنَّتَيْنِ﴾ ذکرکړے دے۔ هرکله چه یو خوړونکی له خوراك دَ میوؤ پوره مزه هغه وخت ورکوی چه تکیه ئے په خائسته فراشونوباندے وهلے وی دَ دے وجے نه په طریقه دَحال سره ئے متکئین ذکر کړو ﴿بَطَآئِنُهَا﴾ اشاره ده یا داچه بطائن (استرونه) چه عادةً په دُنیاکښ دَ معمولی کپړے نه جوړیږی لیکن په جنت کښ به هغه دَ اعلیٰ کپړے نه وی چه استبرق دے نودَ ظهائروعلم دَ اللّٰه تعالیٰ سره دے هغه دَ انسان په علم کښ اوس نشی راتلے۔

[٥٧،٥٦] پدیکښ اتم اونهم نعمت ذکرکوی ﴿قٰصِرٰتُ﴾ یعنی بغیر دَ خپلو خاوندانونه به بل چاته نظرنه کړځوی دَ ډیرے حیا دَ وجے نه اودا خائسته صفت دَ زنانودے ﴿لَمْ يَطْمِثْهُنَّ﴾ طمث په اصل کښ هغه دم (وینے) ته وئیلے شی چه په وخت دَجماع دَپکړے سره ښکاره کیږی نومراد دا دے چه دوی به بکړے وی دَ دے خاوندانونه وړاندے هیڅ پیری اوانسان دَ دوی سره جماع نه ده کړے اواشاره ده چه هروخت دَجماع کولوکښ به دوی بکړے وی۔ او ابن کثیر وئیلی دی دا دلیل دے چه پیریان به هم جنت ته داخلیږی او دَ هغوی دَپاره دَ جنس دَ هغوی نه بیبیانے دی ځکه که دَ دوی جنت ته داخلیدل نه وے نو دَ دوی دَجماع دَکولو بیا هیڅ فائده نیشته۔

[٥٩،٥٨] پدے تشبیه کښ دوه نعمتونوته اشاره ده (لسم اویؤلسم) یاقوت قیمتی جوهردے ډیرصفا اوسور رنګ والا او وئیلے شویدی چه هغه په اورسره نه سوزیګی۔ اومرجان نرئے ملغرے چه ډیرے سپینے

اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٦١﴾ وَمِنْ دُوْنِهِمَا جَنَّتٰنِ ﴿٦٢﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٦٣﴾ مُدْهَامَّتٰنِ ﴿٦٤﴾
فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٦٥﴾ فِيْهِمَا عَيْنٰنِ نَضَّاخَتٰنِ ﴿٦٦﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٦٧﴾
فِيْهِمَا فَاكِهَةٌ وَّنَخْلٌ وَّرُمَّانٌ ﴿٦٨﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٦٩﴾ فِيْهِنَّ خَيْرٰتٌ حِسَانٌ ﴿٧٠﴾

دَ احسانونو دَ رب خپل نه انکار کوئے تاسو (٦١) او سیوا دَ دوی نه نور قسما قسم باغونه دی (٦٢) نو دَ کوم یو دَ احسانونو دَ رب خپل نه انکار کوئے تاسو (٦٣) تك شنه به وی (٦٤) نو دَ کوم یو دَ احسانونو دَ رب خپل نه انکار کوئے تاسو (٦٥) په دے کښ چینے دی فوارے وهونکی به وی (اوبه راویستونکی په زور سره) (٦٦) نو دَ کوم یو دَ احسانونو دَ رب خپل نه انکار کوئے تاسو (٦٧) په دے کښ میوے دی او کجورے او انار دی (٦٨) نو دَ کوم یو دَ احسانونو دَ رب خپل نه انکار کوئے تاسو (٦٩) په دے کښ به غوره ښیبانے خائسته شکلونو والا وی (٧٠)

اوصفاوی نوپه دے کښ مراد ډیرخائست اوصفائی دَهغوی ده دَیاقوت سره تشبیه په صفاییٔ کښ اودَ مرجان سره په سپین والی کښ ده یا دَ یاقوت سره په سورو الی او دَمرجان سره مشابهت په صفاوالی کښ دے۔

[٦١،٦٠] پدیکښ ذکردَعلت دَماقبل نعمتونودے په اول لفظ چه احسان دے دَ انس اوجن دَطرف نه اودارنګ په دیکښ په دویم لفظ احسان کښ نورو ښے شماره نعمتونو او احساناتو دَ اللّٰه تعالیٰ ته اشاره ده۔ فراء په تفسیر معالم التنزیل کښ په سند سره مرفوع حدیث راوړے دے چه رسول اللّٰهﷺ دا ایت اولوستلو بیائے تپوس اوکړو چه تاسو پوهیږئے چه ستاسو رب څه فرمائیلی دی دوی اوئیل اللّٰه تعالیٰ او رسول ښه پوهه دے نوهغه اوفرمائیل چه اللّٰه تعالیٰ فرمائیلی دی چه نیشته جزاء دَ هغه چا چه ما انعام کړے دے په هغه باندے په توحید سره مګر جنت دے۔

[٦٣،٦٢] دَ دے ایت نه دویم قِسم جنتونه په بشارت کښ ذکرکوی دَ دویم قسم مؤمنانودَپاره اودَ دے هم یؤلس صفات راوړی ﴿وَمِنْ دُوْنِهِمَا﴾ لفظ دَ دُونِ ښکاره دلالت کوی چه دا جنتونه دَ مخکنونه په فضیلت اودرجاتو کښ کم دی اوابن کثیردا دَ ابن عباس رضی اللّٰه عنهما نه نقل کړے دے۔

[٦٥،٦٤] دا اول صفت دَ جنتان دے هرکله چه اونے بوټی اوچمنونه ډیر شنه اوتازه وی نو تورښکاره کیږی دیته ادهیمام وئیلے کیږی نوپه دے کښ اشاره ده ډیروالی دَ اونو اوبوټواوچمنونوته اوډیره تازګئ اوډیر شین والی ته۔

[٦٧،٦٦] دابل صفت دَجنتونودے ﴿نَضَّاخَتٰنِ﴾ دا چینے به ډیرے اوبه اومشك اوخوشبوئي اوخیر اوبرکت په جنتیانو باندے رانولی اودا هم ډیر نعمتونه دی دَ دے وجے نه دلته هم لفظ اٰلَآءِ اُوئیلے شو۔

[٦٩،٦٨] دابل صفت دے اوپه دے کښ درے انعامات ذکرکوی ﴿وَنَخْلٌ وَّرُمَّانٌ﴾ دَ دے دَ تخصیص وجه دا ده چه په زمانه دَ نزول قرآن کښ حجاز علاقه کښ دا دواړه ډیر موجود وو۔

[٧١،٧٠] دا بل صفت دے په ذکرکولو دَ نورونعمتونو سره ﴿خَيْرٰتٌ﴾ یعنی خاوندانے دَ خیراودَ فائدودی۔ یا معنیٰ دا چه غوره اخلاقو او صفاتو والادی۔ او حِسَانٌ، په معنیٰ دَ دے چه بدنونه او مخونه به ئے ډیر خائسته وی۔

فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٧١﴾ حُوْرٌ مَّقْصُوْرٰتٌ فِي الْخِيَامِ ﴿٧٢﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٧٣﴾
لَمْ يَطْمِثْهُنَّ اِنْسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا جَآنٌّ ﴿٧٤﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٧٥﴾ مُتَّكِـِٕيْنَ عَلٰى
رَفْرَفٍ خُضْرٍ وَّعَبْقَرِيٍّ حِسَانٍ ﴿٧٦﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٧٧﴾ تَبٰرَكَ اسْمُ رَبِّكَ ذِي الْجَلٰلِ
وَالْاِكْرَامِ ﴿٧٨﴾

نو دَ کوم یو دَ احسانونو دَ رب خپل نه انکار کوئے تاسو (۷۱) حورے دی بندے ساتلے شوے په خیمو (دَ ملغلرو کښ) (۷۲) نو دَکوم یو دَ احسانونو دَ رب خپل نه انکار کوئے تاسو (۷۳) نه به وی رسیدلے دوی ته هیڅ انسان مخکښ دَ دوی نه او نه پیرے (۷٤) نو دَکوم یو دَ احسانونو دَ رب خپل نه انکار کوئے تاسو (۷۵) ارام به کوی دوی په ځادرونو شنو او قالینونو خائسته باندے (۷٦) نو دَ کوم یو دَ احسانونو دَ رب خپل نه انکار کوئے تاسو (۷۷) برکتونو والا دے نوم دَ رب ستا چه لوئے شان والا دے او عزتونو والا دے (۷۸)

[۷۳،۷۲] دا نورصفات دَ هغه ازواجو دی ﴿مَقْصُوْرٰتٌ﴾ بنده ساتل دَحفاظت او دَاکرام دَپاره دی اومدح دَ زنانوپه ستراوپردے سره کیږی اوچه پخپل کورکښ اوسی اوبے ضرورته په لاروکوڅوکښ نه ګرځی ﴿فِي الْخِيَامِ﴾ دَ جنت دَ هغے خیمے تفسیرپه حدیث صحیح کښ راغلے دے او دلته هغه مراد دے چه رسول اللّٰهﷺ فرمائیلی دی، چه دَ مؤمن دَپاره په جنت کښ خیمه ده دَ یو ملغرے د ډے نه چه اوکدوالے دَ هغے شپیته میلونه دے او دَ دے مؤمن به په هغے کښ اهل وی چه دے به په هغوی باندے چکرلګوی او هغوی به یوبل لره نه وینی، دا دَ مسلم روایت دے۔

[۷۵،۷٤] دا صفت دُ مخکنواودَ دوی دواړوشریك دے ځکه چه دَ دے وصف په نیشتوالی سره په لذّاتوکښ ډیرکمے طبعاً اوعادةً محسوس کیږی۔

[۷۷،۷٦] دا نورصفتونه دَ جنتیانوذکرکوی یعنی تیرشوی نعمتونه به دوی ته حاصلیږی سرهٔ دَ ارام نه ﴿رَفْرَفٍ خُضْرٍ﴾ مراد دَ دے نه هغه ځادرونه دی چه په بستره باندے غورولے شی یا بالښتونه یا چمنونه دَ جنت ﴿وَعَبْقَرِيٍّ﴾ کل د ارځادرونه یا بسترے چه ډیرے نا اشناوی۔

[۷۸] دا تفریع ده په ټول سورة باندے اوتفصیل دَ دعوے دَ سورة دے په لفظ دَ تَبَارَكَ، کښ اشاره ده چه دا مخکښ ذکرکړے شوی نعمتونه پیداکول اوهغے له ترقی اوبقا ورکول دا صفت خاص دَاللّٰه تعالیٰ دے اودارنګ دا ټول انعامات دلالت کوی په عظمت اولوئے دَاللّٰه تعالیٰ باندے نوصفت ذی الجلال ئے راوړواودا انعامات دلالت کوی په سخاوت اومهربانئے دَ اللّٰه تعالیٰ باندے نوصفت دَ الاکرام ئے ذکرکړو ﴿اِسْمُ رَبِّكَ﴾ مراد دَ اسم نه په دے مقام کښ الرّحمٰن دے چه دَ سورت په اول کښ دے اودارنګ هراسم دَ اسماءِ حسنیٰ نه موصوف دے په تبارك سره ﴿ذِي الْجَلٰلِ وَالْاِكْرَامِ﴾ صفت دَ رب دے یعنی جلیل دے په اعتبار دَ ذات سره اواکرام والادے په اعتبارد افعالوسره۔

فائده: قاسمی په تفسیرکښ ذکرکړی دی چه برکات دَ نومونو دَ اللّٰه تعالیٰ واجب دی(په هغه الفاظوسره چه حروف هجاء نه مرکب وی) مونږتبرك حاصلوؤدَ هغے په ذکراوپه تعظیم سره اودَ هغه دَ

سُوْرَةُ الْوَاقِعَةِ (٥٦) مَدَنِيَّةٌ (٣٦) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ٩٦ رُكُوْعَاتُهَا ٣

اِذَا وَقَعَتِ الْوَاقِعَةُ ۙ﴿١﴾ لَيْسَ لِوَقْعَتِهَا كَاذِبَةٌ ۘ﴿٢﴾ خَافِضَةٌ رَّافِعَةٌ ۙ﴿٣﴾ اِذَا رُجَّتِ الْاَرْضُ رَجًّا ۙ﴿٤﴾

کوم وخت چه واقع شی واقع کیدونکے (۱) نیشته دَ واقع کیدلو دَ هغے نه هیڅ انکار (۲) بنکته کوی به بعضو خلقو لره پورته کوی په بعضو لره (۳) کوم وخت چه اوجړقولے شی زمکه په سختو جړقولو سره (٤)

(بقیه تفسیر دَ سورة الرحمٰن) نوم اجلال اواکرام به کوؤکه دغه نومونه په کاغذ کښ لیکلی شوی وی یا په دیوال وغیره کښ منقوش وی یا په ژبه باندے ذکر کیږی۔

سورة الواقعة

ربط: دَ دے سورة دَ سورة رحمٰن سره په ډیرو وجوهوسره دے اوله وجه دا ده چه په هغه سورة کښ اثبات دَ رحمانیت اوبرکاتودَ اللّٰه تعالیٰ دَپاره وؤنوپه دے سورة کښ رد دَ شرك فی البرکات کوی په طریقه دَ تسبیح سره۔ دویمه وجه داچه په هغه سورة کښ تخویف اُخروی اوبشارت اخرویه ذکرکړے شونوپه دے سورة کښ دَ هغے اهل ذکرکوی۔ دریمه وجه داچه هلته ئیے دَجنتونودوه قِسمونه ذکرکړل نوپه دے سورة کښ دَ اهل جنت دوه قسمونه ذکرکوی السابقون اواصحاب الیمین۔

دعویٰ دَ دے سورة: تسبیح دَ اللّٰه تعالیٰ ده چه دوه کرته ئیے ذکرکوی په(٧٤) او(٩٦)کښ لکه سورة رحمٰن کښ دوه صفتونه ذکرشول، یوالرحمٰن دویم تبارك۔ اواثبات دَ دے تسبیح کوی په ذکرد انعاماتودَ تربیت دَ انسان سره اوپه انزال دَ قرآن سره۔

خلاصه دَ سورة: دا سورة تقسیم دے دوه بابونوته اول باب تر(٥٧) پورے دے په دے باب کښ اته حالات دَقیامت ذکرکوی تر(٧) پورے بیا تقسیم دَ اهل حشرذکرکوی درے ډلوته په (٨،٩،١٠)کښ بیا دَ فریق اول چه سابقون دی دَهغوی لس بشارات ذکرکوی تر(٢٦) پورے بیا دَ دریم فریق چه اصحاب الشمال دی شپږعقوبات(تخویفاً) ذکرکوی اوپه مینځ دَ هغے کښ درے علتونه دَعذاب راوړی۔

تفسیر

[١] ﴿اَلْوَاقِعَةُ﴾ دا نوم دے دَ نومونودَ قیامت نه اودے ته واقعة په دے وجه وئیلے کیږی چه وقوع دَ دے یقینی دے یا دا چه په دیکښ ډیرے سختے واقعے کیدونکی دی او بعضو علماؤ وئیلی دی چه الواقعه نه مراد دویمه شپیلئ وهل دی۔

[٢] پدیکښ تاکید دَ وقوع دَ واقعه دے۔

[٣] معنیٰ دا ده چه بنکته کوی بعضِ قومونه جهنم ته اوپورته کوی به بعضِ قومونه جنت ته اوجهنم کوزدے اوجنت پورته دے۔ یامعنیٰ دا ده کوز وی به دُشمنان دَ اللّٰه تعالیٰ(یعنی په ذلت سره) او اوچتوی به دوستان دَ اللّٰه تعالیٰ(یعنی په عزت سره)۔

[٤] ﴿رَجًّا﴾ هغه سخت خوځیدل دی چه دَ هغے سره اواز اوریدلے کیدیشی او مراد ترینه زلزله ده په ټوله

وَّبُسَّتِ الْجِبَالُ بَسًّا ۝٥ فَكَانَتْ هَبَآءً مُّنْۢبَثًّا ۝٦ وَّكُنْتُمْ اَزْوَاجًا ثَلٰثَةً ۝٧ فَاَصْحٰبُ الْمَيْمَنَةِ ۙ
مَآ اَصْحٰبُ الْمَيْمَنَةِ ۝٨ وَاَصْحٰبُ الْمَشْئَمَةِ ۙ مَآ اَصْحٰبُ الْمَشْئَمَةِ ۝٩ وَالسّٰبِقُوْنَ السّٰبِقُوْنَ ۙ ۝١٠
اُولٰٓئِكَ الْمُقَرَّبُوْنَ ۝١١ فِيْ جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ۝١٢ ثُلَّةٌ مِّنَ الْاَوَّلِيْنَ ۝١٣ وَقَلِيْلٌ مِّنَ الْاٰخِرِيْنَ ۝١٤ عَلٰى

او ذرے ذرے به کړے شی غرونه په ذرے ذرے کولو سره (٥) نو شی به دوړه الوځولے شوے (٦) او شئے به تاسو درے قسمونه (٧) نوځی لاس والا خلق څه لوئے شان دے دَ ځی لاس والو (٨) او کینړ لاس والا خلق څومره بد دے حال دَ کینړ لاس والا (٩) او مخکښ کیدونکی ایمان ته (په دُنیا کښ) مخکښ داخلیدونکی به وی جنت ته (په اخرت کښ) (١٠) دغه کسان پوره نزدے کړے شویدی (١١) په جنتونو دَ نعمتونو کښ به وی (١٢) ډلے دی دَ مخکنو اُمتونو نه (١٣) او لګ دی دَ روستنو نه (١٤) په

زمکه باندے لکه سورة زلزال کښ او دَ سورة حج په اول ایت کښ ذکرشویده۔

[٥،٦]د احال دَ غرونو ذکرکوی چه داوهم اونکړے شی چه په زمکه باندے غرونه دَ میخونوپشان دی نودابه څه رنګے ټوله اوخوزیګی نواوفرمائیل شوچه غرونه به هم ختم شی ﴿هَبَآءً مُّنْۢبَثًّا﴾ هغه دوړه چه دَخپودَ آسونونه په وخت دَ تیزرفتارئے دَ هغوی کښ را اوچته شی اوبیا خوره او روکه شی۔

[٧] دا تقسیم دَخلقودے په اعتباردَعقیدے اودَعملونوسره نودارنګ بیا په اعتبار دَ جزاء سره لیکن په دُنیاکښ دوی مخلوط وؤاوهریودَخپلے طریقے تعریف کوؤنوتقسیم په دُنیا کښ پوره ښکاره شوے نه وو اُو په اخرت کښ به پوره ښکاره شی۔

[٨،٩] دا تفصیل دَ اقسام ثلثه دے نوپد یکښ اول فریق ذکرکوی ﴿اَلْمَيْمَنَةِ﴾ دَ یمین نه ماخوذ دے یعنی خی طرف دَ میدان حشرته به روان کړیشی ځکه چه خی طرف ته جنت دے یا دا دَیُمن نه اخستلے شویدے یعنی خیراوبرکت والادی اونیك بخت دی۔

[١٠،١١] پدیکښ دویم فریق ذکرکوی ﴿اَلْمَشْئَمَةِ﴾ شمال (کَس) طرف ته وئیلے کیږی یعنی دوی له به په کَس لاس کښ عمل نامه ورکیدے شی یا دا چه په کَس طرف دَ میدان حشر به روان کړیشی ځکه چه هغه طرف ته جهنم دے۔ یا ماخوذ دے دَ شُؤم نه بد بختئے ته وئیلے کیږی یعنی دوی شقیان اوبدبخت دی۔

[١٢] دا دریم فریق دے دَ اول نه مراد سبقیت کوؤنکی دی دَخیرکارونوته په دنیاکښ اودَ دویم نه مراد وړاندے داخلیدونکی جنت ته په ورځ دَ قیامت کښ ﴿اَلْمُقَرَّبُوْنَ﴾ دَ دوی درجے به عرش ته او اللّٰه تعالیٰ ته ډیرے نزدے وی۔

[١٣،١٤] په اولین او اخرین کښ دوه اقوال دی اول داچه دَاولین نه دَ تیرشوو پیغمبرانو(سابقون) صحابه مراد دی او انبیاء علیهم السلام ډیروؤنودَ هغوی دَ صحابؤ مجموعه شمارډیږدے او اخرین نه مراد زمونږدَ امت صحابه کرام دی دوی اګرچه فی نفسه ډیردی لیکن په نسبت دَ مجموعه تیرشوؤ باندے کم دی۔ دویم قول داچه دَ اولین نه مراد زمونږ دَ امت سابقون (صحابه) دی او دَ اخرین نه مراد په دے امت کښ هغه خلق دی چه ایمان او اتباع دَ رسول اللّٰهﷺ ته ئے سبقت کړے دے او دَ صحابه کرامو په نقشِ قدم باندے روان دی، نو دوی دَ صحابه کرامونه لګ دی۔ او ابن کثیر روستو قول غوره کړے دے اوډیر احادیث ئے دَ دے امت په فضیلت باندے ذکرکړی دی۔

سُرُرٍ مَّوْضُوْنَةٍ ۙ﴿١٥﴾ مُّتَّكِـِٕيْنَ عَلَيْهَا مُتَقٰبِلِيْنَ ﴿١٦﴾ يَطُوْفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَانٌ مُّخَلَّدُوْنَ ۙ﴿١٧﴾ بِاَكْوَابٍ
وَّاَبَارِيْقَ ۙ وَكَاْسٍ مِّنْ مَّعِيْنٍ ۙ﴿١٨﴾ لَّا يُصَدَّعُوْنَ عَنْهَا وَلَا يُنْزِفُوْنَ ۙ﴿١٩﴾ وَفَاكِهَةٍ مِّمَّا يَتَخَيَّرُوْنَ ۙ﴿٢٠﴾
وَلَحْمِ طَيْرٍ مِّمَّا يَشْتَهُوْنَ ؕ﴿٢١﴾ وَحُوْرٌ عِيْنٌ ۙ﴿٢٢﴾ كَاَمْثَالِ اللُّؤْلُؤِ الْمَكْنُوْنِ ۚ﴿٢٣﴾ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوْا

تختونو باندے به وی چه او دلے شوی به وی دَ تارونو دَ سرو زرونه (١٥) تکیه به وهی په هغے باندے یو بل ته مخا مخ به وی (١٦) ځی راځی به په دوی باندے هلکان چه همیشه به هلکان وی (١٧) په ګلاسونو او جګونو سره اوپیالے ډکے دَ شرابو خالصو نه (١٨) نه به سر درد راځی په دوی باندے دَ هغے نه او نه به التیے (قے) کوی (١٩) او په میوؤ کښ به وی دَ هغه قسم نه چه دوی به ئیے خوښوی (٢٠) او په غوښو دَ مارغانو کښ به وی دَ هغه قسم نه چه دوی ئیے غواړی (٢١) او (دوی لره به وی) حورے خائسته سترګو والا (٢٢) پشان دَ ملغلرو پتوساتلے شوؤ (٢٣) بدله ورکیدیشی په سبب دَ هغه عملونو سره

[١٦،١٥] ﴿مُتَقٰبِلِيْنَ﴾ مجلس کښ به یوبل ته مخامخ وی مینځ کښ به ئیے پرده نه وی اواشاره ده چه دَ یوبل نه به چرے نه خفه کیږی اومرتبے به ئیے هم یوبل ته نزدے وی۔

[١٨،١٧] ﴿وِلْدَانٌ﴾ مراد دینه دَ مشرکانوهغه بچی دی چه مخکښ دَبلوغ نه مړه شوی دی اوپه بل قول کښ ورسره واړه دَمسلمانانوهم مراد دی یا مراد هغه دی چه په جنت کښ دَخدمت دَجنتیانودَپاره پیداکړے شوی دی﴿مُخَلَّدُوْنَ﴾ همیشه به وی فنا به ورباندے نه راځی اونه به زړیږی اونه به دَحالت خپل نه بدلیږی ﴿مَعِيْنٍ﴾ دَچینے پشان جاری به وی یا بنکاره اوډیره وی یعنی نچوړولوته به ئیے حاجت نه وی۔

[١٩] ﴿وَلَا يُنْزِفُوْنَ﴾ دَضحاك نه روایت کړے شوے دے چه په خمرد دُنیاکښ څلورناکاره اوصاف دی۔ دردِسر، قے کول، نشه کیدل، بول راتلل، اوشراب دَ جنت دَ دے ټولو قبائحونه پاك دی۔

[٢٠] دا عطف دے په اکواب باندے اوباجاره محذوف ده ﴿يَتَخَيَّرُوْنَ﴾ مراد دا چه ډیرے میوے اوپه ډیرقسمونوبه وی نو هرڅوك به دَ خپلے خوښے مطابق دَ هغے نه خوری یا مراد دے نه غوره او بهتره۔

[٢١] سوال: څه حکمت دے چه دَ فواکه سره یتخیرون اودَ لحم سره ئیے یشتهون ذکرکړو؟ جواب: په دُنیاکښ چه هرکله دا دواړه څیزونه اوګڼی شخص ته وړاندے کړیشی نودَ دهٔ غوښے ته اشتهاکیږی اوهرکله چه مورِشخص ته پیش کړے شی نودَ هغه میلان فواکه ته کیږی اواهل جنت خوخوراك دَلوګے دَ وجے نه نهٔ کوی بلکه دَ تفکه دَوجے نه کوی نودَ دے وجے نه فاکهه ئیے دَ لحم نه وړاندے ذکرکړه په خلاف دَ ترتیب دَ دُنیا سره۔

[٢٣،٢٢] ﴿اَلْمَكْنُوْنِ﴾ چه پټه ساتلے شوے وی اودوړه ورباندے نه وی لګیدلے اولاسونه ورته نه وی رسیدلی۔

يَعْمَلُوْنَ ﴿٢٤﴾ لَا يَسْمَعُوْنَ فِيْهَا لَغْوًا وَّلَا تَاْثِيْمًا ﴿٢٥﴾ اِلَّا قِيْلًا سَلٰمًا سَلٰمًا ﴿٢٦﴾ وَاَصْحٰبُ الْيَمِيْنِ ۙ مَآ
اَصْحٰبُ الْيَمِيْنِ ﴿٢٧﴾ فِيْ سِدْرٍ مَّخْضُوْدٍ ﴿٢٨﴾ وَّطَلْحٍ مَّنْضُوْدٍ ﴿٢٩﴾ وَّظِلٍّ مَّمْدُوْدٍ ﴿٣٠﴾ وَّمَآءٍ مَّسْكُوْبٍ ﴿٣١﴾
وَّفَاكِهَةٍ كَثِيْرَةٍ ﴿٣٢﴾ لَّا مَقْطُوْعَةٍ وَّلَا مَمْنُوْعَةٍ ﴿٣٣﴾ وَّفُرُشٍ مَّرْفُوْعَةٍ ﴿٣٤﴾ اِنَّآ اَنْشَاْنٰهُنَّ اِنْشَآءً ﴿٣٥﴾

چه دوی کول (٢٤) نه به اوری دوی په هغے کښ بے فائدے خبرے او نه دَ ګناه خبرے (٢٥) مګر وینا به وی سلام سلام (٢٦) او ځی لاس والا خلق څه لوئے شان دے دَ ځی لاس والو (٢٧)(وی به دوی) په بیرو بے ازغو کښ(٢٨) او په کیلو کښ چه لاندے باندے جوخت به وی (٢٩) او په سورو اوږدو کښ (٣٠) او په اوبو روانے کړے شوے په مخ دَ زمکه باندے (٣١) او په میوؤ ډیرو کښ (٣٢) چه نه به ختمیږی او نه به ترینه منع کیدے شی (٣٣) او په بسترو او چتو درجو والا کښ به وی (٣٤) یقیناً پیدا به کړو مونږ زنانۂ لره په نوی پیدائش سره (٣٥)

[٢٤] ﴿جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ﴾ اعمال ظاهری سبب دے دَجزاء دَپاره او رحمت دَ اللّٰه تعالیٰ سبب حقیقی دے دَ دے وجے نه دواړو ته نسبت دَ جزاء صحیح دے۔

[٢٥،٢٦] ﴿لَغْوًا﴾ لغوهغه کلام دے چه په هغے کښ هیڅ فائده نه وی برابره خبره ده که ګناه پکښ وی او که نه وی او ﴿تَاْثِيْمًا﴾ هغه کلام دے چه په هغے سره انسان ګنهګار ګرځی لکه دروغ ، بهتان، غیبت وغیره ۔ او دارنګ تاثیم یوبل ته دَ ګناه (فسق وفجوروغیره) نسبت کول ﴿سَلٰمًا سَلٰمًا﴾ تکرارنه مراد تکثیراو ډیروالے دے۔ سَلَاماً مراد دَ دینه هغه خبرے دی چه سالم وی دَ عیب اودَنقصان اودَګناه نه۔ یا مراد دَ دینه هغه خبرے دی چه سالم وی دَعیب اودَ نقصان اودَګناه نه۔ یا مراد دَ دے نه سلام کول دی دَ طرف دَ اللّٰه تعالیٰ او ملائکونه او دَ یوبل دَ طرف نه۔

[٢٧] دا ذکردَ دویم قِسم مؤمنانودے یعنی عام مؤمنان اودَ دوی اته بشارتونه ذکرکوی۔

[٢٨،٢٩،٣٠،٣١] ﴿مَخْضُوْدٍ﴾ چه ازغی پکښ نه وی یا چه ډیرباروالاوی ﴿طَلْحٍ﴾ جمع دَ طلحة ده اونے دَ کیلے ته وئیلے کیږی ﴿مَنْضُوْدٍ﴾ یعنی میوے به په هغه اونه پورے داسے لاندے باندے انځتے وی چه تنه به ئے ټوله پټه وی ﴿مَمْدُوْدٍ﴾ په حدیث صحیح (ابن کثیر ورته متواتر وئیلے دے) سره ثابت ده چه سورشخص په هغه سوری کښ سل کاله مزل اوکړی نو هم ئے اخرته نشی رسیدلے ﴿مَسْكُوْبٍ﴾ چه دَ دوی په کورونواوباغونو کښ به هروخت جاری وی اودَ زمکے په سرباندے به بهیږی نونه به اوچیږی اونه به بوځے او رسئے ته ضرورت وی۔

[٣٢،٣٣] ﴿لَا مَقْطُوْعَةٍ﴾ یعنی په اوړی یا ژمی وغیره سره به نه ختمیږی بلکه همیشه به وی۔ ﴿وَلَا مَمْنُوْعَةٍ﴾ یعنی دَ هغے نه به هیڅ قسم منع کوؤنکے نه وی بلکه ازغی به هم نه وی اولرے به هم نه وی چه کوم وخت غواړی نوراخستلے به شی۔

[٣٤] مراد دَ دے نه فراشونه (قالینونه)دی﴿مَرْفُوْعَةٍ﴾ اوچت به وی مکان دَهغے اګرچه په وخت دَکیناستلو کښ به کوزیکی یا قدراوشان ئے اوچت دے۔

[٣٥،٣٦،٣٧] ﴿اِنْشَآءً﴾ نوی پیدائش نه مراد داچه دُنیوی صفات اواخلاق (چه بدکنړلے کیږی) هغه

فَجَعَلْنٰهُنَّ اَبْكَارًا ﴿٣٦﴾ عُرُبًا اَتْرَابًا ﴿٣٧﴾ لِّاَصْحٰبِ الْيَمِيْنِ ﴿٣٨﴾ ثُلَّةٌ مِّنَ الْاَوَّلِيْنَ ﴿٣٩﴾ وَثُلَّةٌ مِّنَ
الْاٰخِرِيْنَ ﴿٤٠﴾ وَاَصْحٰبُ الشِّمَالِ ۙ مَآ اَصْحٰبُ الشِّمَالِ ۙ ﴿٤١﴾ فِيْ سَمُوْمٍ وَّحَمِيْمٍ ﴿٤٢﴾ وَّظِلٍّ مِّنْ
يَّحْمُوْمٍ ﴿٤٣﴾ لَّا بَارِدٍ وَّلَا كَرِيْمٍ ﴿٤٤﴾ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَبْلَ ذٰلِكَ مُتْرَفِيْنَ ﴿٤٥﴾ وَكَانُوْا يُصِرُّوْنَ عَلَى

نو جوړے به کړو دَ دوی نه جینکئے (٣٦) محبت ښکاره کوؤنکے همزولے (٣٧) خی لاس والو لره (٣٨) دوی ډلے دی دَ مخکنو امتونو نه (٣٩) او ډلے دی دَ روستنو نه (٤٠) او کینړ لاس والا څومره بد دے حال دَ کینړ لاس والو (٤١) په ګرمو هوا ګانو کښ او خوټکیدلو اوبو کښ به وی (٤٢) او په سوری کښ دَ لوګی نه (٤٣) نه به یخ وی او نه به فائده مندوی (٤٤) یقیناً دوی وؤ مخکښ دَ دے نه ډیر مست په مالونو دَ دنیا (٤٥) او وؤ دوی چه همیش والے ئے کوؤ په

به ترینه زائله کړے شی ﴿فَجَعَلْنٰهُنَّ اَبْكَارًا﴾ دا په زنانه کښ ډیرافضل صفت دے دَ دے وجے نه مستقل ئے ذکرکړو۔ یعنی اګرچه په دُنیا کښ بوډئے شوے اوزړه شوے وی لیکن په جنت کښ به هغه نوے جینئے وی۔ اوپه حدیث دَترمذی کښ هم راغلی دی چه نبی ﷺ په طریقه دَمزاح سره اوفرمائیل چه بوډے ګانے به جنت ته نه داخلیږی نویوبوډئے چه واؤریدل نوپه ژړاشوه نونبی ﷺ اوفرمائیل ایا دے دا ایت نه دے اوریدلے (مزاح کول خوشطبعی کول سرهٔ دَ رشتیا وئیلونه دا دَ نبی ﷺ په خائسته اخلاقو کښ داخل دی) ﴿عُرُبًا﴾ دا دَ اَعْرَبَ نه اخستلے شوے دے په معنیٰ دَښکاره کولویعنی دا زنانه به خپل محبت خاوند ته ښکاره کوی دَ مینے په خبروسره اوپه نازکولواوپه ځان خائسته کولوسره دَ دے وجے نه مفسرینودا ټولے معانے ذکر کړے ﴿اَتْرَابًا﴾ په زنانو کښ اتراب اوپه نارینو کښ اقران استعمالیږی۔ نودا زنانه به ټولے دَیوبل سره هم عمروی اودارنګ دَ خاوندانوسره به هم همزولے وی او په حدیث کښ وارد دی چه دَ درے دیرش کالوپه عمر باندے به وی اودا صفتونه به په دوی کښ همیشه وی۔

[٣٨، ٣٩، ٤٠] ﴿لِّاَصْحٰبِ الْيَمِيْنِ﴾ حدیث سره ثابت دی چه نارینه دَجنت به هم دَ درے دیرش کالوپه عمرکښ وی ﴿الْاَوَّلِيْنَ﴾ مخکښ اُمتونه یا دَ دے امت نه زمانه دَصحابومراد ده اوالاخرین نه دااُمت ټول یا دَ دے امت روستوخلق مراد دی۔

[٤١] دَ دے نه تخویف اُخروی شروع دے په ذکردَشپږحالات دَ هغوی سرهٔ دَ درے علتونونه۔

[٤٢، ٤٣، ٤٤] ﴿سَمُوْمٍ﴾ هغه هوا ده چه ډیره ګرمه وی اوپه مساماتودَ بدن کښ ورننوځی ﴿ظِلٍّ﴾ سورے ئے ورته استهزاءً وئیلے دے یعنی تورلوګی به پشان دَسوری ښکاره کیږی ﴿يَحْمُوْمٍ﴾ ډیرتورلوګے اشاره ده چه جهنم هم تواراولوګے ئے هم تور اودَ جهنمیانومخونه به هم توروی ځکه چه په دُنیا کښ دَ دوی عقیدے اواعمال ظلمات اوتور وؤ ﴿وَلَا كَرِيْمٍ﴾ بے فائدے ته وئیلے کیږی اودارنګ خوګ اوخائسته منظر والا به نه وی یعنی دَ اصلی سوری صفتونه به پکښ نه وی۔

[٤٥] دا اول سبب دَعذاب دَ دوی دے ﴿مُتْرَفِيْنَ﴾ اتراف دَ دُنیا په نعمتونو اومزو اوشهواتوسره ډیر مشغولتیا ته وئیلے کیږی تردے پورے چه دَ دین نه بالکل ناخبره شی اودَ توحید اوسنت نه تکبرکوی۔ اوقرطبی اتراف په حرام مال پورے خاص کړے دے اوپه دے کښ سرمایه دارانه نظام ته اشاره ده چه هغه

الْحِنْثِ الْعَظِيْمِ ﴿٤٦﴾ وَكَانُوْا يَقُوْلُوْنَ ۙ اَئِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَّعِظَامًا ءَاِنَّا لَمَبْعُوْثُوْنَ ﴿٤٧﴾
اَوَ اٰبَآؤُنَا الْاَوَّلُوْنَ ﴿٤٨﴾ قُلْ اِنَّ الْاَوَّلِيْنَ وَالْاٰخِرِيْنَ ﴿٤٩﴾ لَمَجْمُوْعُوْنَ ۙ اِلٰى مِيْقَاتِ
يَوْمٍ مَّعْلُوْمٍ ﴿٥٠﴾ ثُمَّ اِنَّكُمْ اَيُّهَا الضَّآلُّوْنَ الْمُكَذِّبُوْنَ ﴿٥١﴾ لَاٰكِلُوْنَ مِنْ شَجَرٍ مِّنْ زَقُّوْمٍ ﴿٥٢﴾
فَمَالِـُٔوْنَ مِنْهَا الْبُطُوْنَ ﴿٥٣﴾ فَشٰرِبُوْنَ عَلَيْهِ مِنَ الْحَمِيْمِ ﴿٥٤﴾ فَشٰرِبُوْنَ شُرْبَ الْهِيْمِ ﴿٥٥﴾ هٰذَا

ګناه لوئے باندے (٤٦) او دوی به وئیل ایا کوم وخت چه مونږ مړه شواوشوخاورے او هډوکی ایا مونږ به دوباره ژوندی کیدلے شو (٤٧) او ایا پلاران زمونږ زاړه (٤٨) ته اُوایه یقیناً مخکښ خلق او روستو خلق (٤٩) ضرور راغونډ به کړے شی مقرر وخت دَ ورځے ته معلوم دی (صفتونه) دَ هغے (٥٠) بیا به یقیناً تاسو اے ګمراهانو انکار کوؤنکو (٥١) ضرور خورئے به دَ اونے دَ زقوم نه (٥٢) نو ډکه وئے به دَ هغے نه خیتے خپلے (٥٣) نو څښئے به دَ هغے دپاسه دَ خوټکیدلو اوبونه (٥٤) نو څښئے به پشان دَ څښلو دَجل وهلو اوښانو (٥٥) دا

جړدَ ټولو کفریا تودے۔

[٤٦] دادویم سبب ذکرکوی اودا مرض دَعاموشرکانودے که مالداروی او که فقیروی ﴿يُصِرُّوْنَ﴾ اصرارنه مراد همیش والے په ګناه کولوباندے دے چه توبه دَهغے نه نه اوباسی اودَثواب کارئے ګنړی ﴿عَلَى الْحِنْثِ﴾ دا لفظ دَ ذنب نه زیاته معنیٰ لری ځکه چه پدیکښ معنیٰ دَماتولودَلوظ ده نوګناهِ کبیره پورے خاص دے صغیره باندے اطلاق نه کیږی ﴿الْعَظِيْمِ﴾ هرکله چه ګناه کبیره کښ مرتبے دی نودا لفظ ئے دَ دے وجے ذکرکړوچه دلالت اوکړی چه اکبرالکبائرمراد دے چه هغه شرك دے۔

[٤٨،٤٧] داذکردَ دریم سبب دے انکارکول دَبعث بعد الموت نه اودا دَ لویوجاهلانوعقیده ده ځکه چه دَ اللّٰه تعالیٰ دَ قدرت اودَ علم نه انکارکوی۔

[٥٠،٤٩] ﴿مَعْلُوْمٍ﴾ نه مرادپه علم دَاللّٰه تعالیٰ کښ هغه ورځ معیّنه ده یا مراد داچه صفتونه دَ هغے په قرآن کښ بیان شویدی۔

[٥٣،٥٢،٥١] روستودَ اسبابوذکرکولونه درے عذابونه ذکرکوی دَ دے نه مخکښ ئے درے عذابونه ذکرکړی وؤپه هغے کښ اشاره وه چه هواګانے اواوبه دَ هغے هم څه فائِده نه ورکوی اوپه دے کښ اشاره ده چه خوراك څښاك دَ هغے هم څه فائِده نه ورکوی ﴿الضَّآلُّوْنَ﴾ پدیکښ اشاره ده مرض دَشرك ته چه په الحنث العظیم کښ ذکرشو او ﴿الْمُكَذِّبُوْنَ﴾ کښ اشاره ده انکار دَ بعث بعد الموت ته چه مخکښ ذکر شو ﴿فَمَالِـُٔوْنَ﴾ پدیکښ اشاره ده چه دَ مړیدلو فائِده به نه ورکوی اونقصان به پکښ ډیر وی په سبب دَ ډکیدلو دَ خیټو سره۔

[٥٥،٥٤] روستودَ خوراك نه دَ څښلوحال ذکرکوی ﴿الْهِيْمِ﴾ دَ هیام نه ماخوذ دے یومرض دے دَ اوښانوچه اوبه څښی اونه مړیږی هغے ته جل وهلی وائي اوهیم جمع دَ هیمان ده جل وهلے اوښ ته وئیلے کیږی یا جمع دَ هیام ده هغه ډیرئے دَ شګو چه اوبوسره نه سیراب کیږی او نه مړیږی۔

نُزُلُهُمْ يَوْمَ الدِّيْنِ ﴿٥٦﴾ نَحْنُ خَلَقْنٰكُمْ فَلَوْلَا تُصَدِّقُوْنَ ﴿٥٧﴾ اَفَرَءَيْتُمْ مَّا تُمْنُوْنَ ﴿٥٨﴾ ءَاَنْتُمْ
تَخْلُقُوْنَهٗٓ اَمْ نَحْنُ الْخٰلِقُوْنَ ﴿٥٩﴾ نَحْنُ قَدَّرْنَا بَيْنَكُمُ الْمَوْتَ وَمَا نَحْنُ بِمَسْبُوْقِيْنَ ﴿٦٠﴾ عَلٰٓى اَنْ
نُّبَدِّلَ اَمْثَالَكُمْ وَنُنْشِئَكُمْ فِيْ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿٦١﴾ وَلَقَدْ عَلِمْتُمُ النَّشْاَةَ الْاُوْلٰى فَلَوْلَا تَذَكَّرُوْنَ ﴿٦٢﴾

میلمستیا دَ دوی ده په ورځ دَ جزا (٥٦) مونږ تاسو پیدا کړی ئیے نو ولے تصدیق نه کوئے (٥٧) ایا سوچ کړے دے تاسو په هغه نطفه باندے چه اړوئے په رحم کښ (٥٨) ایا تاسو شکل جوړوئے دَ هغے نه او که مونږ شکل جوړوؤنکی یو (٥٩) مونږ مقررکړیدے ستاسو په مینځ کښ مرګ اونه یو مونږ عاجز کړے شوی (٦٠) په دے خبره باندے چه بدل کړو مونږ شکلونه ستاسو او پیدا کړو تاسو لره په هغه شکلونو کښ چه تاسو به ئیے نه پیژنئے (٦١) او یقیناً پوهه ئیے تاسو په پیدائش مخکښ باندے نو ولے نصیحت نه قبلوئے تاسو (٦٢)

[٥٦] ﴿نُزُلُهُمْ﴾ هغه خوراك څښاك چه میلمه ته اول پیش کیږی نوچه نُزُل ئیے دومره قبیح دے نو روستو خوراك څښاك حال خوبه دَ دے نه هم ناکاره وی۔

[٥٧] دَ دے ایت نه دویم باب دے تر اخره پورے پدیکښ څلورعقلی دلیلونه دَ تربیت سره متعلق ذکرکوی او دَ هرنعمت سره زوال ته هم اشاره کوی۔ دَ پیدائش سره مرګ، دَ فصلونو سره حُطام کیدل، دَ اوبوسره اجاج کیدل او دَ اور سره ئے دَ اخرت اورته اشاره کول ذکرکړی دی اوپه دے دلیلونوباندے دعویٰ دَ توحید متفرع ده بیا عظمت دَ قرآن ئیے په شپږحالاتوسره ذکرکړے دے چه په هغے کښ زجرهم دے بیا تخویف دے په ذکردَ حال دَ نزع سره اوعجزدَ مخلوق دَ واپس کولودَ روح نه بیا ذکردَ درے اقسامو دَ خلقودے په باره دَ مړو کښ اوتفریع دَ دعوے دَ توحید ده په اخرکښ ﴿تُصَدِّقُوْنَ﴾ عام دے تصدیق دَ توحید او دَ بعث بعد الموت او دَ رسالت او قرآن ټولوته شامل دے۔

[٥٨،٥٩] دا تفصیل دَخلق دے ﴿ءَاَنْتُمْ تَخْلُقُوْنَهٗٓ﴾ دا خطاب دے ټول مخلوق ته که انبیاء اواولیاء وی اوکه عام وی ټول دَ دے خلق نه عاجزدی، تَخْلُقُوْنَهٗٓ، نه مراد هغه مختلف حالات جوړول او بدلول دی۔

[٦٠،٦١] روستودَ نعمت دَ خلق نه زوال ذکرکوی په ذکردَ مرګ سره دَپاره دَ دے چه په دے نعمت سره تکبراونه کړی ﴿قَدَّرْنَا﴾دلیل دَتقدیردے ﴿بَيْنَكُمُ﴾ یعنی ګرځی دا مرګ ستاسوپه مینځ کښ۔ ﴿وَمَا نَحْنُ بِمَسْبُوْقِيْنَ﴾ مسبوق هغه چاته وئیلے کیږی چه بل څوك ترینه مخکښ کیدے شی یعنی مغلوب او عاجزوی ﴿اَمْثَالَكُمْ﴾ مراد دَ دے نه صورتونه اوشکلونه دی یعنی دَ انسانیت نه خلاف نورشکلونه به تاسوله درکړی یا دَ اَمْثَالَكُمْ، نه مراد اولاد دی یعنی چه تاسومړه کړی اوستاسو اولاد ستاسوپه بدله کښ راولی لکه چه دا نظام الٰهی جاری دے ﴿وَنُنْشِئَكُمْ فِيْ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ﴾ په اوله معنیٰ سره مراد دَ دے نه نورشکلونه (چه مسخ کړیشی) پیداکول دی۔ اوپه دے دویمه معنیٰ سره په قیامت کښ شکلونه بدلول دی یعنی دَچا مخونه سپین خائسته اودَچاتك توربد شکلونه جوړول یامراد دا دے چه روستودَ مرګ نه بعض انسانانولره درندګان اوخوری نودَ هغوی په بدن کښ مخلوط اوبدل شی اوبعضِ انسانان خاورے شی اودَ هغه خاورونه بوټی اونے پیدا شی اوبعض انسانان په معدنیاتوکښ خلط شی نودَ هغوی نه هغه

اَفَرَءَيْتُمْ مَّا تَحْرُثُوْنَ ﴿٦٣﴾ ءَاَنْتُمْ تَزْرَعُوْنَهٗۤ اَمْ نَحْنُ الزّٰرِعُوْنَ ﴿٦٤﴾ لَوْ نَشَآءُ لَجَعَلْنٰهُ حُطَامًا
فَظَلْتُمْ تَفَكَّهُوْنَ ﴿٦٥﴾ اِنَّا لَمُغْرَمُوْنَ ﴿٦٦﴾ بَلْ نَحْنُ مَحْرُوْمُوْنَ ﴿٦٧﴾ اَفَرَءَيْتُمُ الْمَآءَ الَّذِىْ تَشْرَبُوْنَ ﴿٦٨﴾
ءَاَنْتُمْ اَنْزَلْتُمُوْهُ مِنَ الْمُزْنِ اَمْ نَحْنُ الْمُنْزِلُوْنَ ﴿٦٩﴾ لَوْ نَشَآءُ جَعَلْنٰهُ اُجَاجًا فَلَوْلَا تَشْكُرُوْنَ ﴿٧٠﴾

ایا سوچ کړے دے تاسو په هغه تخم چه کړئ ئے تاسو (٦٣) ایا تاسو زرغونه وئے هغه اوکه مونږ زرغونوؤنکی یو (٦٤) که چرے او غواړو مونږ ضرور اوګرځوؤ به دا ګیا ذرے ذرے نو بیا به غمونه ښکاره کوئے (٦٥) چه یقیناً مونږ تاوانیان شو (٦٦) بلکه مونږ بد نصیبه یو (٦٧) ایا تاسو سوچ کړے دے په هغه اوبو باندے چه تاسو ئے څښئے (٦٨) ایا تاسو راکوزے کړی دی دا دَ سپینو وریځو نه اوکه مونږ راکو ځوؤنکی یو (٦٩) که چرے اوغواړو مونږ او به ګرځوؤ دا ترخے نو ولے شکر نه کوئے تاسو (٧٠)

معدنیات جوړشی نو دا مثال او اشکال مختلفه دی چه انسانانو ته دَهغے علم نیشته۔

[٦٢] دَخلق اودَ مرګ دَ ذکرنه روستودَ دوباره ژوند اثبات په دلیل سره کوی چه هغه قیاس کول دی په اول ژوندی کولو باندے ﴿فَلَوْلَا تَذَكَّرُوْنَ﴾ مراد دَ دینه دوباره ژوند یا دول دی په طریقه دَ قیاس کولوسره په اول ژوند باندے۔

[٦٣،٦٤] دا دویم دلیل دے چه پیدائش پسے دَ تربیت کولوذکردے ﴿تَحْرُثُوْنَ﴾ حرث وئیلے کیږی زمکه شلول اودَ هغے اړول اوتخم پکښ اچول دا خوانسانان کوی ﴿ءَاَنْتُمْ تَزْرَعُوْنَهٗۤ﴾ زرع نه مراد تیغونه اوفصل راویستل دی دَتخم نه اودا په قدرت دَهیڅ مخلوق کښ نیشته دے اوپه دے سره دَ توحید اثبات دے چه تاسوټول (انبیاء اولیاء) دَ دے نه عاجزئے نومعلومه شوه چه مخلوق دَخالق سره شریك نشی کیدے او دارنګ په دے سره دَ قیامت اثبات دے چه اللّٰه تعالیٰ دَ تخم نه شین بوټی را او باسی نو تاسوبه هم دَ زمکے نه دوباره راژوندی کړی۔

[٦٥،٦٦،٦٧] دَنعمت دَ ذکرکولونه روستو دَ هغے زوال ذکرکوی دَدے دپاره چه انسان په فصلونو او باغونو باندے تکبر اونه کړی ﴿فَظَلْتُمْ تَفَكَّهُوْنَ﴾ تفکه دَ اضدادونه دے خوشحالی کول اوغم کول دواړو ته وئیلے کیږی۔دلته دویمه معنیٰ مراد ده اوپښیمانتیاکول تعجب کول اوبے فائدے خبروکولوته هم تفکه وئیلے کیږی ﴿اِنَّا لَمُغْرَمُوْنَ–مَحْرُوْمُوْنَ﴾ یعنی زمونږنه هغه ذات روزی منع کړه چه دَ هغه سره مقابله نشی کیدے اودیته بدنصیبی وئیلے کیږی۔

[٦٨،٦٩] دا دریم دلیل دے دَپاره دَ اثبات دَ توحید اودَ اثبات دَ بعث بعد الموت۔ اودویمه ماده دَ ترتیب ذکرکوی چه اوبه دَباران دی۔ ځکه اکثرخلق اسمانی اوبه څښی ﴿الْمُزْنِ﴾ مطلق وریځے ته یا خاص سپینے وریځے ته وئیلے کیږی ځکه چه باران اکثردَسپینو وریځونه وریږی۔ دا ایت دلیل دے چه تمام مخلوق (انبیاء اولیاء وغیره) دَباران وړولوقدرت نه لری نو افسوس دے دَهغه جاهلانوپه حال باندے چه هرکله سوکړه شی نودوی بعضِ قبرونوته ځی او په جاهلانه طریقوسره دَ قبرونو والانه باران غواړی یا دَ هغه په برکت سره ئے غوړای دا ټول شرك او دَ شرك طریقے دی۔

[٧٠] په دے کښ تخویف دَ زوال دَ نعمت ذکرکوی دَدے دَپاره چه انسان غرور او تکبراونه کړی

اَفَرَءَيْتُمُ النَّارَ الَّتِىْ تُوْرُوْنَ ﴿٧١﴾ ءَاَنْتُمْ اَنْشَاْتُمْ شَجَرَتَهَآ اَمْ نَحْنُ الْمُنْشِـُٔوْنَ ﴿٧٢﴾ نَحْنُ جَعَلْنٰهَا
تَذْكِرَةً وَّ مَتَاعًا لِّلْمُقْوِيْنَ ﴿٧٣﴾ فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيْمِ ﴿٧٤﴾ فَلَآ اُقْسِمُ بِمَوٰقِعِ النُّجُوْمِ ﴿٧٥﴾

ایا تاسو سوچ کړیدے په هغه اور باندے چه بلوئے ئیے تاسو (۷۱) ایا تاسو پیدا کړیده اونه دَ اور او که مونږ پیدا کوؤنکی یو (۷۲) مونږ ګوګولے ده دا یاداشت (دَ اور دَ جهنم) او فائدے دپاره دَ صحرا والو (۷۳) نو پاکی وایه دَ نوم دَ رب ستا چه لوئے شان والا دے (۷٤) داسے نه ده څه قسم کوؤم په ځایونو دَ ستورو باندے (۷۵)

﴿فَلَوْلَا تَشْكُرُوْنَ﴾ دَشکرمقصد داچه دا نعمت (اوبه) په بندګئے دَاللّٰه تعالیٰ کښ صرف کړیشی او صِرف دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه دا احسان اوګنړلے شی ۔

فائِده: دَ اول نعمت چه نَشائَةِ اُولیٰ، دے نه روستو فَلَوْلَا تَذَكَّرُوْنَ، ذکرکړے دے او دَ اوبو دَ نعمت نه روستو فلولا تشکرون، ذکردے؟ وجه دا ده چه هلته کښ مقصد دَ دوباره ژوند قیاس کول دی په اول ژوند باندے اوقیاس اوعبرت ته تذکر وئیلے کیږی۔ او دلته خونعمت دَ خوراك او څښاك ذکردے او دا ښکاره نعمتونه دی او تذکر دَ نعمت شکر کول دی او دَ دے وجے نه په سنت کښ دَ خوراك او څښاك دواړونه روستو الحمد اللّٰه وئیل دَپاره دَ شکرکولو ثابت اوضروری دی۔

[۷۱] دا څلورم دلیل دے دَ اثبات دَ توحید اودَ تذکیرِدَ قیامت دَپاره اودَ تربیت دَموادونه دریمه ماده ده۔ ﴿تُوْرُوْنَ﴾ دَ بعضِ اونودَ پانړو اوځانګونه په مخلوسره اور را اوځی لکه دَ بعضِ ګټوپه رګړوَلو سره اور پیداکیږی او دارنګ تیلے راښکل په ډیی پورے دَ دے نه هم اور پیدا کیږی ۔ دے ټولوته دا لفظ عام شامل دے۔

[۷۲] په دے کښ عجزدَ ټول مخلوق ذکرکوی چه هغوی دَ اور مواد نشی پیدا کولے نوولے دَ اللّٰه تعالیٰ سره ئیے شریك جوړوئ ﴿شَجَرَتَهَآ﴾ دَ مرخ اوعفار اونے چه عربوبه دَ هغے دَپانړواوځانګومخلونه اور راویستلویا هرشنه اونه مراد ده ځکه چه عقل سره ثابت شویده چه په هره شنه اونه کښ اللّٰه تعالیٰ دَ اور ماده پیداکړیده دَ دینه مطلقے اونے مراد دی چه شنے وی یا اوچ لرګی چه په اور کښ سوزی او اور پرے بلیږی۔

[۷۳] په دے کښ دوه لوئے فائِدے دَ اورذکرکوی ﴿لِلْمُقْوِيْنَ﴾ دَ قواء نه ماخوذ دے خالی صحراء ته وئیلے کیږی یعنی هغه خلق چه په بیابانونوکښ اوسی هلته دیره وی یا مسافروی دوی دَ اور نه فائِده اخستلوته ډیر محتاج وی۔ او مقوین فائِدے اخستونکوته هم وئیلے کیږی او لوګے والاته هم وئیلے کیږی اوهغه چاته وئیلے کیږی چه توښه ورسره ختم شی۔

[۷٤] دا تفریع ده دَ تیرشوی دلیلونوپه مسئله دَ توحید سره ﴿بِاسْمِ رَبِّكَ﴾ هراسم دَ اللّٰه تعالیٰ دَخاص نومونودَ هغه نه پاك دے دَ هرعیب اونقصان اودَ شریك نه نو دا رد دے په مشرکین فی الاسماء والصفات باندے۔

[۷۵] هرکله چه عقلی دلیلونه دَ اثبات دَ توحید اودَ قیامت دَپاره ذکرشواوس ترغیب ورکوی قرآن ته چه دا وحی دلیل دے۔ اواشاره ده چه تربیت بدنیه سره تربیت روحانیه په قران کریم سره ضروری دے ﴿فَلَآ اُقْسِمُ﴾ په لفظ دَ لَا کښ څلور اقوال دی اول داچه زیاتی دے بِنا په عادت دَ عربوباندے نو معنیٰ په اثبات دَ قسم سره۔ دویم قول داچه لا نافیه دے نفی دَ قسم مراد ده لیکن دَ دے قول ضعف ښکاره دے په سبب دَ دے

وَ اِنَّهٗ لَقَسَمٌ لَّوْ تَعْلَمُوْنَ عَظِيْمٌ ﴿٧٦﴾ اِنَّهٗ لَقُرْاٰنٌ كَرِيْمٌ ﴿٧٧﴾ فِيْ كِتٰبٍ مَّكْنُوْنٍ ﴿٧٨﴾ لَّا يَمَسُّهٗۤ اِلَّا
الْمُطَهَّرُوْنَ ﴿٧٩﴾ تَنْزِيْلٌ مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٨٠﴾ اَفَبِهٰذَا الْحَدِيْثِ اَنْتُمْ مُّدْهِنُوْنَ ﴿٨١﴾ وَتَجْعَلُوْنَ

او یقیناً دا قسم که چرے تاسو پوهیږے لوئے دے (٧٦) یقیناً دا قرآن دے عزت مند (٧٧) په کتاب محفوظ ساتلے شوی کښ دے (٧٨) لاس نه وروړی دیته مګر پاکان خلق (٧٩) نازل کړیشوے دے د طرف د رب العالمین نه (٨٠) ایا په داسے خبرو تاسو سستی کوئ (٨١) او ګرځوئے

چه روستوئے وَاِنَّهٗ لَقَسَمٌ، ذکر کړے دے یعنی دا قسم دے نونفی د قسم خونشی کیدلے ۔دریم قول دا دے چه لانافیه دے اودَ مخکښ نه انکارد منکرینومعلومیږی (فَلَوْلَاتُصَدِّقُوْنَ، فَلَوْلَاتَذَكَّرُوْنَ، فَلَوْلَا تَشْكُرُوْنَ) نومعنیٰ دا چه دا درے واړه کارونه (تصدیق نه کول، تذکرنه اخستل، شکرنه کول) نه دی مناسب بلکه أُقْسِمُ، دا قول ابن حیان دَسعید بن جبیر نه نقل کړے دے اودَ دے توثیق ئے کړے دے۔ څلورم قول لا په اصل کښ لام دَ تاکید دے او دَ زور دَ اشباع نه الف پیداشومعنیٰ دا چه خامخا قسم کوؤم۔ غوره قول پدے ټولوکښ زمونږپه نیزدریم قول دے ﴿بِمَوٰقِعِ النُّجُوْمِ﴾ دَ ابن عباس رضی اللّٰه عنهما نه ابن کثیر روایت نقل کړے دے چه مراد دَ دے نه نجوم دَ قرآن دی یعنی نجوم جمع دَ نجم ده قِسط اوحصّے ته وئیلے کیږی اوقرآن لګ لګ په حِصو حِصو سره نازل کړے شویدے نومراد دَ مواقع نه ایاتونه او سورتونه دی۔ اودَمجاهد نه نقل دے چه مراد دَ دے نه نجوم (ستوری) دَ اسمان دی اودَ مواقع نه مراد منازل دَ ښکاره کیدلودَ هغے دی یا ځایونه دَغائب کیدلودَ هغے دی۔

[٧٨،٧٧] دا جواب قسم دے اومناسبت دَ قسم اوجواب دَ هغے په اوله توجیه سره دا دے چه دَ قرآن کریم ایاتونه او سورتونه چه لګ لګ نازل شویدی شهادت کوی په کرامت دَ قرآن باندے اوپه دویمه توجیه باندے مناسبت دا دے چه ستوری دَ اسمان ښکاره شی اوبیا غائب شی نودارنګ تیرشوی کتابونه الٰهیه اوانبیاء علیهم السلام چه دَ ستوروپشان رنړا کوؤنکی وؤدَ ښکاره کیدلونه روستوغائب شول اوقرآن کریم (چه نمرد رنړادے) راښکاره شو ﴿كَرِيْمٌ﴾ کرامت دَ قرآن په ډیرو وجوهوسره دے۔ کلام دَ اللّٰه تعالیٰ دے په واسطه دَ جبرئیل نازل کړے شوے دے، سحراوکهانت اوافتراء نه ده، مخلوق نه دے، دَ ډیرو فائدواوعلمونونه ډک دے ۔ معجزدے مشتمل دے په کریم اخلاقواواحکاموباندے لوستونکے دَ دے مکرم اوعزت مند دے په نیزدَ اللّٰه تعالیٰ ﴿فِيْ كِتٰبٍ مَّكْنُوْنٍ﴾ مراد ترینه لوح محفوظ دے۔

[٧٩] په دے کښ ډیراحتمالات دی اول احتمال دا دے چه دا جمله صفت دَ قرآن دے ځکه بحث په باره دَ قران کښ دے او دَمس نه مرادلاس لګول دی اومطهرون نه مراد پاك بدن والادے چه جنب اوبے اودسه نه وی اودا جمله خبریه په معنیٰ دَ انشاء ده نومعنیٰ دا ده چه لاس دِنه لګوی دَقران سره بے اودسه اوپلیت شخص۔ دویم احتمال دا دے چه مس په معنیٰ مجازی سره دے اوطهارت نه باطنی پاکوالے مراد دے یعنی مؤحدمتّقی نومعنیٰ دا شوه چه نه پوهیږی په قرآن باندے مګرمؤمن مؤحد۔ دریم احتمال دا دے چه دا صفت دَ لوح محفوظ دے اومس حقیقی مراد دے اومطهرون نه مراد ملائك دی نومعنیٰ دا ده چه لاس نشی لګولے دَ لوح محفوظ سره مګر صرف ملائك۔ څلورم احتمال دا دے چه دَ مس نه معنیٰ مجازی

رِزْقَكُمْ اَنَّكُمْ تُكَذِّبُوْنَ ﴿٨٢﴾ فَلَوْلَآ اِذَا بَلَغَتِ الْحُلْقُوْمَ ﴿٨٣﴾ وَاَنْتُمْ حِيْنَئِذٍ تَنْظُرُوْنَ ﴿٨٤﴾ وَنَحْنُ
اَقْرَبُ اِلَيْهِ مِنْكُمْ وَلٰكِنْ لَّا تُبْصِرُوْنَ ﴿٨٥﴾ فَلَوْلَآ اِنْ كُنْتُمْ غَيْرَ مَدِيْنِيْنَ ﴿٨٦﴾ تَرْجِعُوْنَهَآ اِنْ
كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿٨٧﴾ فَاَمَّآ اِنْ كَانَ مِنَ الْمُقَرَّبِيْنَ ﴿٨٨﴾ فَرَوْحٌ وَّرَيْحَانٌ ۙ وَّجَنَّتُ نَعِيْمٍ ﴿٨٩﴾ وَاَمَّآ اِنْ كَانَ

برخه ستاسو دا خبره چه دروغژن ئیے ګنړئے (۸۲) نو ولے نه ده چه کوم وخت اورسی روح مړے ته (۸۳) او تاسو په دغه وخت کښ ګورئے (۸٤) او مونږ ښه نزدے یو دهٔ ته ستاسو نه او لیکن نه وینئ تاسو (۸۵) نو ولے نه ده که چرے تاسو نه ئیے کمزورى (۸٦) چه واپس را اوګرځوئے دا روح که چرے تاسو رشتینی ئیے (۸۷) نو که چرے وی دا روح والا دَ زیات نزدے خلقونه (۸۸) نو دهٔ لره راحت دے او خوږ رزق دے اوجنتونه دَ نعمتونو دی (۸۹) او که چرے دے وی

مراد ده معنیٰ داچه علم نه لری په لوح محفوظ باندے مګر ملائك۔

[۸۰] داصفت دَ لَقُرْاٰنٌ دَپاره دے۔په ﴿رَبِّ الْعَالَمِيْنَ﴾ کښ اشاره ده چه لکه تربیت دَ بدن اللّٰه تعالیٰ کوی په غِذاسره چه مخکښ ذکرشونودارنګ تربیت دَ روح په قرآن سره کوی اودارد دے په هغه چا باندے چه قرآن ته سحراو کهانت اوافتراء وائي۔

[۸۱] دا ایت زجردے منکرینوته روستودَبیان دَ صدق دَ قرآن نه ﴿مُدْهِنُوْنَ﴾ مدهن اومداهن په مسلمانانو کښ هغه څوك دے چه دَباطل پرستوسره موافقت کوی اوحق ورته نه ښکاره کوی اوپه کافرانو کښ هغه دے چه دَ مسلمانانونه خپل کفر پټوی په دے وجه مدهنون تکذیب کوؤنکو، اعراض کوؤنکو، کافرانو سره موافقت کوؤنکو، اوپه باره دَ حق منلو کښ بهانے کوؤنکو ټولوته شامل دے۔

[۸۲] دا هم زجردے ﴿رِزْقَكُمْ﴾ هرکله چه تکذیب دَحق اودَ قرآن خوراك نه دے دَ دے وجے نه په دے ایت کښ دَ مفسرینو ډیرتوجیهات دی۔ اوله توجیه داچه رزق په معنیٰ دَشکردے ځکه چه شکرسبب دَ رزق دے نوذکردَ مسبب اومراد ترینه سبب دے۔دویمه توجیه داچه رزق په معنیٰ دَبرخے سره دے نومعنیٰ دا چه تاسوخپله حِصه دَ قرآن نه داګرځولے ده چه تکذیب کوئے۔

[۸۳،۸٤،۸۵] روستودَ زجرنه ذکرکوی تخویف سرهٔ دَ بل قسم زجرنه اودا تخویف دے په مرګ سره۔ ﴿فَلَوْلَآ﴾ دا لفظ دَپاره دَ زورنے استعمالیږی دلته پدیکښ شرطی معنیٰ نیشته دے ﴿الْحُلْقُوْمَ﴾ حلق عام دے ټولے مړئے ته وئیلے کیږی اوحلقوم خاص دے په هغے پورے چه روح پکښ ځی راځی ﴿وَاَنْتُمْ حِيْنَئِذٍ تَنْظُرُوْنَ﴾ خطاب دے حاضرینودَ مړی ته چه اکثرد هغه رشته داروی۔ تَنْظُرُوْنَ، مړی ته اودَ هغه حالت دَنزع ته ګورئ یا دا په معنیٰ دَ انتظاردَمرګ دے ﴿وَنَحْنُ اَقْرَبُ اِلَيْهِ﴾ مراد دَ دے وجود دَملائکة الموت دے چه په هغه وخت کښ حاضروی ﴿وَلٰكِنْ لَّا تُبْصِرُوْنَ﴾ نظرپه محسوساتو کښ اوبصرپه غائب څیزونو معقولاتو کښ اکثر استعمالیږی دَ دے وجے اول ئے نظر ثابت کړوپه تنظرون سره اوبیائے بصرنفی کړو په لاتبصرون سره۔ تردے ځائے پورے څلور حالات ذکرشول۔

[۸۶،۸۷] ﴿فَلَوْلَآ اِنْ كُنْتُمْ غَيْرَ مَدِيْنِيْنَ﴾ معنیٰ دَ دے جزاء ورکړے شوے، حساب کړے شوے او مملوك او کمزورے، حاصل دَ معنیٰ دا دے که چرے تاسورشتیاکمزروی نه یئ اوحساب درسره نشی کیدلے نوبیا خودغه روح

مِنْ اَصْحٰبِ الْيَمِيْنِ ﴿٩٠﴾ فَسَلٰمٌ لَّكَ مِنْ اَصْحٰبِ الْيَمِيْنِ ﴿٩١﴾ وَاَمَّآ اِنْ كَانَ مِنَ الْمُكَذِّبِيْنَ
الضَّآلِّيْنَ ﴿٩٢﴾ فَنُزُلٌ مِّنْ حَمِيْمٍ ﴿٩٣﴾ وَّتَصْلِيَةُ جَحِيْمٍ ﴿٩٤﴾ اِنَّ هٰذَا لَهُوَ حَقُّ الْيَقِيْنِ ﴿٩٥﴾ فَسَبِّحْ
بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيْمِ ﴿٩٦﴾ ع ١٢ ربع

دَ ځی لاس والونه (۹۰) نو(وئیلے کیږی) سلام دے په تا باندے ته دَ ځی لاس والو نه ئے (۹۱) او که چرے وی هغه دَ تکذیب کوؤنکو ګمراهونه (۹۲) نو دهٔ لره میلمستیا ده دَ خوټکیدلو اوبونه (۹۳) او سوځیدل دی په جهنم کښ (۹٤) یقیناً دا پوره یقینی خبرے دی (۹۵) نو پاکی وایه دَ نوم دَ رب ستا چه لوئے شان والا دے (۹٦)

په بدن کښ واپس را اوګرځوئ لیکن نشئ راګرځولے نو معلومه شوه چه تاسو په تکذیب دَ قرآن اوپه انکار دَ توحید او قیامت کښ دروغژن ئیے۔

[۸۸،۸۹] دا تقسیم دَ هغه خلقودے درے قسمونوته چه په هغوی باندے ځنکدن راغے اومړه شول لکه چه دَ سورت په ابتدا کښ ئیے داسے ذکر کړی وؤلیکن فرق دا دے چه هغه حالات په اخرت په جنت یا په جهنم کښ وؤ اودلته حالات دَ وخت دَ ځنکدن دی ﴿اَلْمُقَرَّبِيْنَ﴾ دَ دے نه مراد السابقون دی کامل ایمان والامؤمنان۔ ﴿فَرَوْحٌ وَّرَيْحَانٌ﴾ ابن کثیر وئیلی دی چه دَ مرګ په وخت کښ ملائك دوی ته دا بشارت ورکوی ﴿رَوْحٌ﴾ په معنیٰ دَ راحت او خوشحالیء، او رحمت، دیدن دَ اللّٰه تعالیٰ دے اودا ټولے معنے اراده کیدے شی ﴿رَيْحَانٌ﴾ خائسته رزق، ګل دَ کشمالو، او لذت په خبرودَ اللّٰه تعالیٰ سره دے ټولومعانیوته شامل دے۔

[۹۰،۹۱] دا دویم قسم دے یعنی عام مؤمنان ﴿فَسَلٰمٌ لَّكَ﴾ یعنی ملائك به ورته سلام دَ خپل طرف یا دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه پیش کوی او ورته به وائي چه اَنْتَ مِنْ اَصْحٰبِ الْيَمِيْنِ، یا معنیٰ دا چه په تا باندے سلام دَطرف دَ اصحاب الیمین دے چه ته به دَ هغوی سره په برزخ کښ اوبیا جنت کښ ملګرے کیږے۔ اوامام بخاری معنیٰ ذکر کړے ده چه سَلَّم (منلے شوے) ده ستا دَپاره چه ته دَ اصحاب الیمین نه ئے۔

[۹۲،۹۳،۹٤] په دے کښ دریم قِسم ذکر کوی چه مخکښ ئیے هغوی ته اصحاب المشئمه او اصحاب الشمال وئیلی وؤ۔

فائده: قاسمی دَ اکلیل نه نقل کړیدی چه دا ایاتونه دلالت کوی چه ارواح چه دَ بدنونونه جداشی نویا به په خوشحالو کښ وی اویا به عذاب کښ وی او ارواح دَ مؤمنانو په جنت کښ وی او ارواح دَکافرانو په جهنم کښ دی۔

[۹۵] دا تائید دَ ماقبل دے اوخاص تنبیه ده۔

[۹٦] دا سے په (۷٤) کښ هم تیرشو وجه دَ تکرار دا ده اولاًچه دَ عقلی دلیلونونه روستودا امروؤیعنی عقل دلالت کوی په تسبیح دَ اللّٰه تعالیٰ باندے اوثانیاً دَ قرآن دَصدق نه روستواودَ قران سره متعلق دَ درے ډلودَحالاتودَبیان نه پس یعنی قرآن هم دلیل دے په تسبیح دَ اللّٰه تعالیٰ باندے۔ حدیث دَ ابوداؤدکښ راغلی دی چه دا ایت نازل شو نورسول اللّٰه ﷺ اوفرمائیل چه په دے باندے په رکوع کښ عمل اوکړئے۔ یعنی په رکوع کښ سبحان ربی العظیم وائے۔

سُوْرَةُ الْحَدِيْدِ (٥٧) مَدَنِيَّةٌ (٩٣) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ٢٩ رُكُوْعَاتُهَا ٤

سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝١ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ يُحْيٖ وَ يُمِيْتُ ۚ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝٢ هُوَ الْاَوَّلُ وَالْاٰخِرُ وَالظَّاهِرُ وَالْبَاطِنُ ۚ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ

پاکی وائي اللّٰه تعالیٰ لره هغه څیزونه چه په اسمانونو او زمکه کښ دی او خاص هغه زوراور حکمتونو والا دے (١) خاص هغه لره بادشاهي دَ اسمانونو او دَ زمکے ده ژوندی کول کوی او مړه کول کوی او هغه په هر څیز باندے قدرت لرونکے دے (٢) هغه اول دے او روستو دے ښکاره او پټ دے او هغه په هر څیز باندے

سورة الحديد

دَ دے سورة نه تر سورة ملك پورے مدنی مضامین دی چه هغه جهاد، انفاق فی سبیل اللّٰه او زجرونه په منافقت کوؤنکو او نور اصلاحی امور دی۔

ربط: دَ دے سورة دَ ماقبل سره په ډیرو وجوهو سره دے اوله وجه داده چه محکښ سورة کښ مسئله دَ توحید دوه کرته ذکرکړه نوپدے سورة کښ ترغیب دے خرچ کولو دَ مالونو او استعمال دَ اوسپنے ته دَ پاره دَ اشاعت دَ دے مسئلے ـ دویمه وجه داده چه تیرشوی سورة کښ امر په تسبیح سره اوشونو دَ دے سورة په اول کښ تسبیح دَ مخلوقاتو ذکر کوی گویا که دا علت دے دَ پاره دَ امربالتسبیح۔

دعویٰ دَ سورة: ترغیب دے انفاق فی سبیل اللّٰه ته په پنځه طریقوسره دَ ترغیب دَ جهاد او قتال نه دَپاره دَ توحید، هغه توحید چه ثابت کړے دے په ذکر دَ اتلس اسماؤ حسنیٰ سره اوپه صفاتو سره۔

خلاصه دَ سورة: دا سورة دوه بابونوته منقسم دے اول باب تر(٢٥) پورے دے پدیکښ اول اثبات دَ توحید دے په ذکردَ دوویشت اسماء اوصفات الٰهیه سره اوبیا ترغیب دے انفاق فی سبیل اللّٰه تعالیٰ ته په پنځه طریقوسره په (٧) کښ او(٩،٨)په دے پورے متعلق دی بیا په (١٠) کښ۔ بیا په (١١) کښ اوتر(١٩) پورے په دے پورے متعلق دی بیا په(٢٠) کښ او(٢١) دَ دے سره متعلق دے بیا په (٢٢) کښ او(٢٤،٢٣) دَ دے سره تعلق لری۔

تفسیر

[١] په دیکښ دعویٰ دَ توحید ذکر ده په سبّح سره او﴿الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ﴾ دلیلونه دَ هغے دی۔تسبیح نه مراد قولی تسبیح ده۔او تسبیح حالی ته هم شامل ده۔ اومعنیٰ دَتسبیح دَشریك اوولد او دَ کفر او عجز او احتیاج اومثل ومشابه اودَ ټولونقصانونونه پاکوالے دے۔

[٢] دا دویم دلیل دے۔

عَلِيْمٌ ﴿٣﴾ هُوَ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ فِيْ سِتَّةِ اَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ ؕ يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِي الْاَرْضِ وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا وَمَا يَنْزِلُ مِنَ السَّمَآءِ وَمَا يَعْرُجُ فِيْهَا ؕ وَهُوَ مَعَكُمْ اَيْنَ مَا كُنْتُمْ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿٤﴾ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَاِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ الْاُمُوْرُ ﴿٥﴾

پوره علم لری (٣) خاص هغه داسے ذات دے چه پیدا کړی دی اسمانونه او زمکه په شپږ ورځے کښ بیا برابر شو هغه په عرش باندے پوهه دے په هغه څه چه ننوځی په زمکه کښ او هغه چه رااوځی دَ زمکے نه او هغه چه خکته راځی دَ اسمان نه او هغه چه بره ورخیژی هغے ته او هغه ستاسو سره دے هر ځائے چه ئے تاسو او اللّٰه تعالیٰ ستاسو عملونو لره لیدونکے دے (٤) خاص هغه لره بادشاهی دَ اسمانونو او دَ زمکے ده او خاص اللّٰه تعالیٰ ته ګرځولے شی ټول کارونه (٥)

[٣] دا بل مستقل دلیل دے۔ دَ دے ایت تفسیرپه حدیث صحیح دَ مسلم وغیره کښ ذکرشویدے وئیلی دی ﴿الْاَوَّلُ﴾ فلیس قبلك شیء، یعنی دَ ټولوموجوداتونه ته مخکښ ئے په وجودکښ اوټول عالم لره ته وجود ورکړونکے ئے ﴿وَالْاٰخِرُ﴾ فلیس بعدك شیء، یعنی هغه ته وجود دَ هرځیز منتهی کیږی اوباقی دے روستودَ فنا دَ هرځیزنه ﴿وَالظَّاهِرُ﴾ فلیس فوقك شیء، یعنی اوچت دے دَ هرځیزنه دَ هغه نه بره هیڅ ځیز نیشته اوښکاره دے وجود دَ هغه په دلیلونویقینیوسره ﴿وَالْبَاطِنُ﴾ فلیس دونك شیء، یعنی په اعتبار دَ ذات اوماهیت سره دَ هغه نه پټ نیشته او عالِم دے په باطن دَ هرځیز باندے۔

[٤] دا بل دلیل عقلی مستقل دے اوپنځه صفات دَ اللّٰه تعالیٰ په کښ ذکردی۔ خلق، استواء، علم، معیّت، بصیر۔ اوعرش اوعلی اواستواء درے واړه لفظونه په معنیٰ حقیقی سره مراد دی لیکن دَ هغے کیفیت مونږته معلوم نه دے مونږبه هغه بغیردَ تمثیل اوتشبیه دَمخلوق نه منو او تاویل به ئے نه کوؤ ﴿وَهُوَ مَعَكُمْ﴾ (سوال) په مینځ دَاستواء علی العرش اومعیت دَمخلوق سره تعارض دے؟ (جواب) بعضِ اهل علمو وئیلی دی چه تعارض په دے دواړوکښ په صفاتو دَ مخلوق کښ دے او صفات دَ خالق هیڅ مشابهت دَ صفتونو دَ مخلوق سره نه لری یعنی استواء اومعیت دواړه په حقیقت باندے حمل دی اوکیفیت دَ دواړومجهول دے اواکثراهل علم وائي چه مراد دَ معیت نه معیت په علم اوپه قدرت سره دے اوشیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه اللّٰه په شرح دَحدیث النزول کښ اوپه مجموعه فتاوی ج (٣) ص (١٣٦) ج (٣) (ص١٤٢) ج (٥) ص(١١٣) کښ دَ دے تشریح کړیده او امام ذهبی دَ امام ابوحنیفه رحمه اللّٰه نه په کتاب مختصرالعلوص(١٣٥) کښ هم داسے نقل کړیدی اوابن عبد البرذکرکړیدی چه دا اجماع دَصحابواودَ تابعینوده اودا منقول ده دَ ابن عباس اوضحاك اومقاتل اوسفیان ثوری اواحمد بن حنبل رحمهم اللّٰه نه ابن جریرهم په تفسیرکښ وئیلی دی چه اللّٰه تعالیٰ عالم دے په تاسو اوپه عملونوستاسوباندے اوسرهٔ دَ دے هغهٔ په عرش باندے دَ اسمانونودَپاسه دے۔

[٥] دا بل دلیل مستقل دے په دویم ایت کښ اشاره وه ملك دَ دُنیا ته اوپه دے کښ اشاره ده ملك دَ اخرت ته دَ دے وجے نه دلته دَ اخرت ذکرئیے کړے دے په اِلَی اللّٰه ترجع الامورسره۔

يُوْلِجُ الَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُوْلِجُ النَّهَارَ فِي الَّيْلِ ۚ وَهُوَ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ۝٦ اٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَ
رَسُوْلِهٖ وَاَنْفِقُوْا مِمَّا جَعَلَكُمْ مُّسْتَخْلَفِيْنَ فِيْهِ ۭ فَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ وَاَنْفَقُوْا لَهُمْ اَجْرٌ
كَبِيْرٌ ۝٧ وَمَا لَكُمْ لَا تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ ۚ وَالرَّسُوْلُ يَدْعُوْكُمْ لِتُؤْمِنُوْا بِرَبِّكُمْ وَقَدْ اَخَذَ مِيْثَاقَكُمْ
اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ۝٨ هُوَ الَّذِيْ يُنَزِّلُ عَلٰي عَبْدِهٖٓ اٰيٰتٍۢ بَيِّنٰتٍ لِّيُخْرِجَكُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى
النُّوْرِ ۭ وَاِنَّ اللّٰهَ بِكُمْ لَرَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ۝٩ وَمَا لَكُمْ اَلَّا تُنْفِقُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَلِلّٰهِ مِيْرَاثُ

ننه باسے ته شپه په ورځ کښ او ننه باسے ته ورځ په شپه کښ او هغه پوره عالم دے په هغه خبرو چه په سینو کښ دی (٦) ایمان راوړئے په الله تعالیٰ باندے او په رسول دَ هغه باندے او خرچ کوئے دَ هغے مال نه چه جوړ کړی ئے تاسو واکداران په هغے کښ نو هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے ستاسو نه او خرچ ئے کړیدے دوی لره ثواب لوئے دے (٧) او څه وجه ده تاسو لره چه ایمان نه راوړئے تاسو په الله تعالیٰ باندے او (حال دا چه) رسول دعوت درکوی تاسو ته دپاره دَ دے چه ایمان راوړئے په رب خپل باندے او یقیناً اخستے دے الله تعالیٰ لوظ ستاسو که چرے تاسو مؤمنان ئے (٨) الله تعالیٰ هغه ذات دے چه نازلوی په بنده خپل باندے ایاتونه بنکاره دَ دے دپاره چه اوباسی تاسو دَ تیرونه رنړا ته او یقیناً الله تعالیٰ په تاسو باندے ضرور ډیر شفقت کوؤنکے رحم کوؤنکے دے (٩) او څه وجه ده ستاسو چه خرچه نه کوئے په لار دَ الله تعالیٰ کښ او خاص الله تعالیٰ لره میراث

[٦] دا هم مستقل دلیل عقلی دے په تصرف کولو سره په زمانه کښ۔تر دے ځائے پورے خلاصه دَ دلیلونو دا ده چه تصرف کوونکے په هرشے کښ اوعالِم په هرشیز باندے صرف الله تعالیٰ دے او په دے کښ دَ هغه هیڅ شریك نیشته نو دا دلیل شو په تسبیح دَ هغه باندے۔

[٧] په دے ایت کښ دَ ترغیب الی الانفاق اوله وجه ده حاصل ئے دا دے چه دا مالونه په حقیقت کښ ستاسو نه دی تاسو په دے کښ وکیلان اونائبان دَخپلومشرانو ئے نودا مالونه په صحیح مصرف کښ خرچ کړئے چه فائِده درکړی ﴿اٰمِنُوْا﴾ امر په ایمان سره ئے مخکښ ذکرکړو یوخو دَ دے وجے نه چه بغیرد ایمان نه انفاق کول برباد دی ﴿وَاَنْفِقُوْا﴾ مراد دَ دے نه عام دے زکوٰة اوصدقات واجبه ته شامل دے اوبالخصوص خرچ کول دَپاره دَاشاعت دَتوحید اول مراد دی ﴿مِمَّا جَعَلَكُمْ مُّسْتَخْلَفِيْنَ فِيْهِ﴾ حسن بصری نه روایت دے چه مراد دَ دے نه استخلاف دے په وراثت سره دَ پلارانونه نو اشاره ده چه دا مالونه لکه چه ستاسودَ مشرانونه میراث کښ پاتے شوی دی نو دا شان به ستاسونه هم پاتے کیږی او دا احتمال هم شته چه مراد دَ دے نه استخلاف من الله تعالیٰ دے یعنی مالونه په حقیقت کښ دَ الله تعالیٰ دی لیکن تاسو ئے دَ لګ وخت دَ پاره په دے کښ عارضی مالکان ګرځولی ئے نو دا دَ هغه دَ حکم مطابق خرچ کړئے۔

[٨] داهم متعلق دے دَ تیرشوی ترغیب سره یعنی اول دا چه رسول الله ﷺ ایمان او انفاق ته داعی وو او دویم داچه ستاسونه لوظ اخستلے شوے دے او دریم دا چه دَ ایمان تقاضا ده۔

[٩] دا هم دَ ترغیب سره متعلق دے یعنی دَ ایات بینات(په باره دَ ایمان اوانفاق کښ) تابعداری کول

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ لَا يَسْتَوِیْ مِنْكُمْ مَّنْ اَنْفَقَ مِنْ قَبْلِ الْفَتْحِ وَقٰتَلَ ؕ اُولٰٓئِكَ اَعْظَمُ دَرَجَةً
مِّنَ الَّذِيْنَ اَنْفَقُوْا مِنْۢ بَعْدُ وَقٰتَلُوْا ؕ وَكُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ الْحُسْنٰى ؕ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ﴿١٠﴾ ع ١٢
مَنْ ذَا الَّذِيْ يُقْرِضُ اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا فَيُضٰعِفَهٗ لَهٗ وَلَهٗۤ اَجْرٌ كَرِيْمٌ ﴿١١﴾ يَوْمَ تَرَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَ
الْمُؤْمِنٰتِ يَسْعٰى نُوْرُهُمْ بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَبِاَيْمَانِهِمْ بُشْرٰىكُمُ الْيَوْمَ جَنّٰتٌ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ

د اسمانونو او د زمکے دے برابر نه دی ستاسونه هغه څوك چه خرچ ئے کړیدے مخکښ د فتحے نه او جنګ ئے کړیدے دغه کسان ډیر لوئے درجے والادی د هغه کسانو نه چه خرچ ئے کړیدے روستو او جنګ ئے کړیدے او هر یو سره وعده کړیده الله تعالیٰ خائسته (جنت) او الله تعالیٰ ستاسو په عملونو باندے پوره خبردار دے (۱۰) څوك دے هغه کس چه قرض ورکړی الله تعالیٰ ته قرض خائسته (په اخلاص) نو زیات به کړی هغه (قرض) دهٔ لره او دهٔ لره ثواب دے عزت والا (۱۱) په هغه ورځ چه وینے به ته مؤمنان سړی او مؤمنے زنانه چه منډے به وهی رنړا د دوی مخے د دوی ته او په خی طرفونو د دوی کښ (وئیلے کیږی به) زیرے ستاسو نن جنتونه دی چه بهیږی به لاندے د هغے نه ولے

سبب د اخراج دے د ظلماتونه نورته اوسبب د رافت او رحمتِ الٰهیه دے ﴿عَلٰى عَبْدِهٖ﴾ چه هغه محمد رسول الله ﷺ دے او په دے وصف سره ئے ځکه ذکرکړو اشاره ده چه هغه هم عبدیت د الله تعالیٰ کوی په ایمان اوانفاق کولوسره ﴿الظُّلُمٰتِ﴾ جهل، کفر، شرك، خواهشاتِ متفرقه اوبخل ﴿اِلَى النُّوْرِ﴾ علم، توحید، ایمان، هدایت او یقین۔

[۱۰] دا دویمه وجه ده د وجوهودَ ترغیب الی الانفاق نه په ترقئ سره په بیان کښ یعنی که اومنلے شی چه تاسو بالفرض اصلی مالکان د دے اموالوئیے لیکن ټول به مړه کیږئے اومالونه به ټول الله تعالیٰ ته پاتے کیږی نوپکار دادی چه اوس ئیے د مرګ نه وړاندے د الله تعالیٰ په لارکښ خرچ کړئے ﴿وَلِلّٰهِ مِيْرَاثُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ﴾ اشاره ده چه دا ټول عالم به د انسانانونه یوځل خالی شی اوصرف الله تعالیٰ به باقی وی اودهغه سره به دَبل هیچا حق اوتصرف نه وی ﴿لَا يَسْتَوِيْ مِنْكُمْ﴾ په دے کښ تفاوت د درجاتودَ مجاهدینواودَ انفاق کوؤنکو ذکرکوی۔

[۱۱] دا دریمه وجه ده د وجوهودَ ترغیب الی الانفاق نه په ترقئ سره یعنی فرض کړه چه مالونه ستا همیشه دی لیکن د قرض په طورسره ئے ورکړه دا مروّت اوانسانیت دے قرض په اصل کښ پریکولوته وئیلے کیږی۔ لیکن په عرف کښ مال ورکول بل چاته بغیرد عوض نه دَپاره د دے چه فائِده ترینه واخلی اوبیا واپس اداکړیشی او په عرف د عربوکښ هرے نیکئی کولو ته هم وئیلے کیږی ﴿قَرْضاً حَسَناً﴾ قرطبی د قشیری نه نقل کړیدی چه د قرض حسن لس شرطونه دی۔ اخلاص د نیت، طلب دَرضا د الله تعالیٰ، د حلال مال نه کړه مال ورکول،مخکښ د حال د ځنکدن نه ورکول، پټ ورکول، احسان اوادی نه کول، ورکړے شوے صدقه لګه ګنړل،محبوب مال ورکول،ډیر قیمت والا ورکول،دا ټول سبب د حُسن دے په انفاق کښ۔

خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿١٢﴾ يَوْمَ يَقُوْلُ الْمُنٰفِقُوْنَ وَ الْمُنٰفِقٰتُ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوا
انْظُرُوْنَا نَقْتَبِسْ مِنْ نُّوْرِكُمْ ۚ قِيْلَ ارْجِعُوْا وَرَآءَكُمْ فَالْتَمِسُوْا نُوْرًا ؕ فَضُرِبَ بَيْنَهُمْ بِسُوْرٍ لَّهٗ
بَابٌ ؕ بَاطِنُهٗ فِيْهِ الرَّحْمَةُ وَظَاهِرُهٗ مِنْ قِبَلِهِ الْعَذَابُ ﴿١٣﴾ يُنَادُوْنَهُمْ اَلَمْ نَكُنْ مَّعَكُمْ ؕ قَالُوْا
بَلٰى وَلٰكِنَّكُمْ فَتَنْتُمْ اَنْفُسَكُمْ وَتَرَبَّصْتُمْ وَارْتَبْتُمْ وَغَرَّتْكُمُ الْاَمَانِيُّ حَتّٰى جَآءَ اَمْرُ اللّٰهِ وَغَرَّكُمْ
بِاللّٰهِ الْغَرُوْرُ ﴿١٤﴾ فَالْيَوْمَ لَا يُؤْخَذُ مِنْكُمْ فِدْيَةٌ وَّلَا مِنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ؕ مَاْوٰىكُمُ النَّارُ ؕ هِيَ

همیشه به وی په هغے کښ دا کامیابی لویه ده (۱۲) په هغه ورځ چه وائي به منافقان سړی او منافقانے زنانه هغه کسانو ته چه ایمان ئے راوړے دے انتظار اوکړئے زمونږ چه واخلو مونږ ستاسو دَ رنړا نه اوبه وئیلے شی اوګرځئے واپس شاګانو ستاسوته نو اولټوئے رنړا نو جوړ به شی دَ دوی په مینځ کښ یو دیوال چه دَ هغه به دروازه وی د ننه به په هغے کښ رحمت وی او دَ بهر دَ طرف دَ هغے نه به عذاب وی (۱۳) اوازونه به کوی هغوی ته ایا مونږ ستاسو ملګری نه وؤ دوی به اُوائي هاؤ لیکن تاسو ګمراه کړی وؤ خپل ځانونه او انتظار هم کوؤ اوپوخ شك کښ پراته وئے او دهوکه کړی وئے تاسو خپلو خواهشاتوتردے پورے چه راغے حکم دَ اللّٰه تعالیٰ او دهوکه کړی وئے تاسو په اللّٰه تعالیٰ باندے دهوکه درکوؤنکی (۱٤) نو نن نشی اخستلے کیدے ستاسونه هیڅ جرمانه او نه دَ هغه کسانونه چه کفر ئے کړے دے ځائے دَ ورتللو ستاسو اور دے هغه

[۱۲] دا بشارت اخرویه دے مؤمنانوانفاق کوؤنکوته ﴿نُوْرُهُمْ﴾ دا نُورحقیقتاً به وی په سبب دَ ایمان اواتباع سنت او انفاق فی سبیل اللّٰه سره اودا نُوردَ هغه نورنه سیوا دے چه دَ دوی په مخونو او لاسونو اوخپوباندے ښکاریږی په سبب دَ ایمان او اودسونوکولوسره ﴿بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَبِاَيْمَانِهِمْ﴾ دا دواړه طرفونه دَنیك بختودَپاره خاص دی دوی ته به دَ مخے طرف نه په شی لاسونوکښ عملنامے هم ورکیدے شی نورنړا به هم په دے دواړه طرفونوکښ وی۔

[۱۳] دا تخویف اخروی دے منافقینوته دا هغه خلق دی چه هسے دعوے دَ ایمان ئے کولے اوحقیقت کښ ئے ایمان نه وؤ اوانفاق ئے هم نه کوؤبلکه بخل ئے کوؤاونوروخلقوته ئے هم په بخل سره امر کوؤ۔﴿نَقْتَبِسْ﴾ اقتباس دَبلے شوے رنړانه ځان دَپاره لیت بلَول دی مراد ترینه رنړاحاصلول دی۔ او پدیکښ دوه قولونه دَ مفسرینو دی اول قول دا چه منافقانوله به هم څه نور ورکړے شی اوبیا به مړکړے شی دویم قول دا چه دوی له نورنیشته صرف امیدئے دا دے چه دَ مؤمنانوپه نورسره به مونږپه صراط باندے لاړشو لیکن هغوی خودیرتیزپه صراط تیزشول نومنافقان دَ رنړانه بالکل محروم شول﴿بِسُوْرٍ﴾ اودے ته حجاب اواعراف هم وئیلے شویدے په سورة اعراف(٤٦)کښ ﴿بَاطِنُهٗ فِيْهِ الرَّحْمَةُ﴾ مراد رحمت نه جنت دے۔﴿الْعَذَابُ﴾ دَ دے نه مراد جهنم دے یعنی پدغه دروازه باندے صرف جنّت والا داخلیږی اومنافقانوته په هغے کښ اجازت دَ داخلیدلونه ملاویږی نوهغوی به جهنم ته نزدے کړے شی۔

[۱٤] ﴿يُنَادُوْنَهُمْ﴾ نِداء دَ لرے دَپاره وی اشاره ده چه مؤمنان به دَ دوی نه لرے لرے لاړشی اودروازه به

مَوْلٰىكُمْ ۭ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ۝١٥ اَلَمْ يَاْنِ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْ تَخْشَعَ قُلُوْبُهُمْ لِذِكْرِ اللّٰهِ وَمَا
نَزَلَ مِنَ الْحَقِّ ۙ وَلَا يَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلُ فَطَالَ عَلَيْهِمُ الْاَمَدُ فَقَسَتْ
قُلُوْبُهُمْ ۭ وَكَثِيْرٌ مِّنْهُمْ فٰسِقُوْنَ ۝١٦ اِعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ يُحْيِ الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ۭ قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ

ستاسو سره لائق دے او بدځائے دَ ورتللو دے دا اور (١٥) ایا وخت نه دے نزدے شوے مؤمنانو ته چه عاجزی اوکړی زړونه دَ دوی دَ اللّٰه تعالیٰ یاداشت ته او هغه حق ته چه نازل شوے دے او چه نشی دوی پشان دَ هغه کسانو چه کتاب ورکړے شوے دے دَ دے نه مخکښ نو اوګده شوه په دوی باندے موده نو سخت شول زړونه دَ دوی او ډیر دَ دوی نه پوره نافرمان دی (١٦) پوهه شئے چه یقیناً اللّٰه تعالیٰ ژوندئے کوی زمکه روستو دَ اوچیدلو دَ هغے نه یقیناً بسکاره بیان کړیدی مونږ تاسوته

بنده شی نومنافقان به په چغوسره اواز ورکوی ﴿مَعَكُمْ﴾ په جماعاتواوغزواتواو ټولوواجباتو کښ۔ ﴿وَلٰكِنَّكُمْ فَتَنْتُمْ﴾ دَمنافقانوپنځه اوصاف ئے ذکرکړی دی چه په سبب دَهغے دغه عملونه برباد شویدی اول وصف (فَتَنْتُمْ) په فتنه دَشرك اونفاق کښ ئے ځان غورځولے دے اوداسبب دَ تباهئی دے ځکه ئے ورته فتنه اُوئیل۔ دویم ﴿وَتَرَبَّصْتُمْ﴾ دَ نبی ﷺ اودَ مؤمنانوپه باره کښ دَحوادثوانتظارکوی چه دوی ختم شی نوتاسوبه بیاکفرښکاره کړئے لکه سورة توبه (٥٢، ٩٨) اودارنګ په ټول کولوسره روستووالے کول هم، دریم ﴿وَارْتَبْتُمْ﴾ په توحید اوصدق دَرسول اوبعث بعد الموت اوپه وعده دَ اللّٰه تعالیٰ کښ تاسوشکونه کوئے، خلورم ﴿وَغَرَّتْكُمُ الْاَمَانِيُّ﴾ بے دلیله مسئلے اوخبرے چه ناکاره ملایانو او پیرانو دَ ځان نه جوړے کړیدی او دارنګ اوګده اومیدونه او ارمانونه په دے سره تاسو دهوکه شویوئے او په دے وجے سره مو په توحید او رسالت باندے په زړه کښ یقین نه کوو۔

[١٥] دا تخویف اخروی دے اودا داخل دے لاندے دَ قول دَ مؤمنانونه منافقانوته یا دا قول دَ اللّٰه تعالیٰ یا دَملائکودے دوی ته ﴿مَوْلٰىكُمْ﴾ په معنیٰ دَ اولی سره دے یا په معنیٰ دَ مددګاردے په طریقه دَ تهکم سره یا په معنیٰ دَ متولّی دے یعنی اللّٰه تعالیٰ به دَ دوی عذاب اُورته اوسپاری او هغه به دَ دوی دَ عذاب متولّی شی۔

[١٦] په دے ایت کښ زجردے منافقانوته روستودَ تخویف نه ﴿لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا﴾ هغه کسان چه په ژبه باندے دَ ایمان دعوے کوی اوانفاق فی سبیل اللّٰه هم نه کوی اودارنګ هغه مؤمنان په دے کښ داخل دی چه په ګناهونوکښ اخته دی اوتوبه کولواوقرآن آوریدلوته التفات نه کوی ﴿اَنْ تَخْشَعَ قُلُوْبُهُمْ﴾ مراد دَ خشوع نه په قرآن کریم سره زړه مطمئن کیدل اودَ ایمان زیاتیدل اوویریدل اونرم کیدل اوژړاکول اوپه اندامونوکښ تابعداری پیداکیدل دی ځکه چه خشوع دَزړه سره خشوع دَ ټولواندامونولازمه ده۔ ابن کثیرلیکلی دی چه په دے کښ منع ده دَ مؤمنانودَ تشبیه دَکتابیانو سره چه هرکله په هغوی باندے عمرډیرشواوکتاب دَ اللّٰه تعالیٰ ئے بدل کړو اوپه هغے باندے دُنیا ګټله اوکتاب دَ اللّٰه ئے شاته اوغورځوو او په مختلفو اراؤ او اقوالو پسے تابع شول اوتقلید ئے شروع کړو اوملایان اوپیران ئے ارباب اوکنټرل نوپه زړونودَ هغوی کښ قسوة پیدا شو۔ نونه وعظ قبلوی اونه په وعد او وعید سره دَ هغوی زړونوکښ نرمی راځی ﴿وَكَثِيْرٌ مِّنْهُمْ فٰسِقُوْنَ﴾ یعنی قسوة دَ قلب په ټولو کښ پیدا شولیکن لګوکسانوبیاتوبه اویستله یا

الْاٰيٰتِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿١٧﴾ اِنَّ الْمُصَّدِّقِيْنَ وَ الْمُصَّدِّقٰتِ وَاَقْرَضُوا اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا يُّضٰعَفُ
لَهُمْ وَلَهُمْ اَجْرٌ كَرِيْمٌ ﴿١٨﴾ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَ رُسُلِهٖٓ اُولٰٓئِكَ هُمُ الصِّدِّيْقُوْنَ ۖ وَالشُّهَدَآءُ
عِنْدَ رَبِّهِمْ ؕ لَهُمْ اَجْرُهُمْ وَنُوْرُهُمْ ؕ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَآ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَحِيْمِ ﴿١٩﴾ ع ٢ ٩ ١٨
اِعْلَمُوْٓا اَنَّمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا لَعِبٌ وَّ لَهْوٌ وَّ زِيْنَةٌ وَّ تَفَاخُرٌۢ بَيْنَكُمْ وَ تَكَاثُرٌ فِى الْاَمْوَالِ
وَ الْاَوْلَادِ ؕ كَمَثَلِ غَيْثٍ اَعْجَبَ الْكُفَّارَ نَبَاتُهٗ ثُمَّ يَهِيْجُ فَتَرٰىهُ مُصْفَرًّا ثُمَّ يَكُوْنُ حُطَامًا ؕ

ایاتونه دَ دے دپاره چه دَ عقل نه کار واخلئ (۱۷) یقیناً تصدیق کوؤنکی سړی اوتصدیق کوؤنکی زنانه او چه قرض ورکوی اللّٰه تعالیٰ ته قرضه په اخلاص سره زیاتی کیدے شی (دا قرض) دپاره دَ دوی او دوی دپاره ثواب عزتمند دے (۱۸) او هغه کسان چه ایمان ئیے راوړے دے په اللّٰه تعالیٰ او په رسولانو دَ هغه باندے دغه کسان دوی صدیقین دی او شهداء دی په نیز دَ رب دَ دوی دوی دپاره ثواب دَ دوی دے او رنړا دَ دوی ده او هغه کسان چه کفر ئیے کړے دے او دروغژن ګنړی ایاتونه زمونږ د غه کسان جهنم والا دی (۱۹) پوهه شئے یقیناً ژوند دُنیوی لوبے او مشغله ده او ډول دے او لوئی کول دی په مینځ خپل کښ او سیالی دَ ډیرو مالونو او دَ اولاد ده (دَ دے مثال) پشان دَ حال دَ فائده مند باران دے چه خوشحاله کړی زمیندارو لره بوټی دَ هغے بیا اوچ شی نوته وینے هغه زیړ بیا شی ذرے ذرے

دَکفرنه ئیے ځان بچ اوساتلو او ډیرو کفر اوکړو تردے پورے چه قران او اخری رسول نه ئیے انکار اوکړو یعنی دَ فسق نه مراد کفرکول دی۔

[۱۷] په دے کښ ترغیب دے قرآن ته په طریقه دَ مثال سره یعنی څرنګه چه اللّٰه تعالیٰ اوچه زمکه کښ تازګی پیدا کوی په باران سره نو دارنګ سخت زړونو لره هم نرموی په قران سره کله چه دَ هغوی هدایت اوغواړی۔ ﴿الْاٰيٰتِ﴾ نه مراد قرآن دے۔

[۱۸] روستودَ زجراوتخویف نه بخلاؤته، بشارت اوترغیب دے انفاق کؤنکوته ﴿الْمُصَّدِّقِيْنَ﴾ دَتاکید دپاره صیغه مذکر اومؤنث دواړه ذکردی دارنګ تعبیردَتصدّق اودَ قرض دواړه دَپاره دَترغیب دی په اول تعبیرکښ اشاره ده نظرکولومسکینانو فقراؤ ته اوپه دویم تعبیرکښ اشاره ده لحاظ کولودَ اللّٰه تعالیٰ ته بغیردَ ریا اوسُمعة وغیره نه۔

[۱۹] دَ مؤمنانویوقسم ذکرشو چه هغوی ته صالحین وئیلے کیږی نوپه دے ایت کښ باقی نوراقسام دَ اهل ایمان ذکرکوی، رسل، صدیقون، شهداء اودَ دوی دَپاره بشارت ذکرکوی اودا اقسام دَ سعداؤدی اوبیا اشقیاء هم ذکرکوی اودَ هغوی دَپاره تخویف اخروی ﴿وَالشُّهَدَآءُ﴾ (۱) شهادت کوؤنکی په توحید اورسالت سره (۲) شهادت کوؤنکی په ورځ دَقیامت په خلقوباندے په دعوت اوتبلیغ سره (۳)دعوت اوبیان کوؤنکی په دُنیا کښ او (٤) قتل کړے شوی فی سبیل اللّٰه۔ په دے کښ دا ټول احتمالات جائزدی ﴿وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا﴾ په دے کښ ذکر دَ اشقیاؤ دے دَپاره دَ تقابل او دوی ته تخویف دے۔

وَ فِي الْاٰخِرَةِ عَذَابٌ شَدِيْدٌ ۙ وَّ مَغْفِرَةٌ مِّنَ اللّٰهِ وَ رِضْوَانٌ ؕ وَ مَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَآ اِلَّا مَتَاعُ الْغُرُوْرِ ﴿۲۰﴾ سَابِقُوْٓا اِلٰى مَغْفِرَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَ جَنَّةٍ عَرْضُهَا كَعَرْضِ السَّمَآءِ وَ الْاَرْضِ ۙ اُعِدَّتْ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَ رُسُلِهٖ ؕ ذٰلِكَ فَضْلُ اللّٰهِ يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَ اللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ﴿۲۱﴾ مَآ اَصَابَ مِنْ مُّصِيْبَةٍ فِي الْاَرْضِ وَ لَا فِيْٓ اَنْفُسِكُمْ اِلَّا

او په اخرت کښ عذاب سخت دے او بخشش دے د طرف د اللّٰه تعالیٰ نه او رضا د هغه ده اونه دے ژوند دُنیوی مګر سامان دهوکه ورکوؤنکے (۲۰) وړاندے شئے ډیوبل نه بخشش د رب ستاسوته او جنت ته چه وسعت د هغے پشان د وسعت د اسمانونو او د زمکے دے تیارکړے شویدے هغه چا لره چه ایمان راوړی په اللّٰه تعالیٰ او په رسولانو د هغه باندے دا فضل د اللّٰه تعالیٰ دے ورکوی ئے هغه چا ته چه اوغواړی او اللّٰه تعالیٰ خاوند د لوئے فضل دے (۲۱) نه رسیږی هیڅ مصیبت په زمکه کښ او نه په ځانونو ستاسو کښ مګر

[۲۰] په دے کښ ځلورمه طریقه ده ترغیب الی الانفاق ته حاصل داچه د دُنیا په مالونو کښ هیڅ باقی فائده نیشته بلکه زر فنا کیدونکی دی نوضرور ده چه په دے سره مغفرت اوجنت اوګټئے په انفاق فی سبیل اللّٰه سره ﴿اِعْلَمُوْٓا﴾ په دے کښ تزهید فی الدنیا دے په پنځه طریقو سره اوپدے کښ احسن ترتیب دے هغه دا دے چه ﴿اَلْحَيٰوةُ الدُّنْيَا﴾ نه مراد سامانونه د دُنیا دی یا عمرد دُنیا دے چه په وړوکوالی کښ هریوځیز ورته د لوبوځیزونه ښکاریږی بیا چه لګ لوئے شی نوټول ځیزونه ورته تماشے اومشغلے ښکاره کیږی بیا چه ځوانے ته نزدے یا ځوان شی نود ډول ډهال سره ئے محبت وی بیا چه پوخ عمرته اورسی نوپه دے ځیزونوسره په یوبل باندے فخر اولوئیی کوی بیا چه بوډاوالی ته اورسیږی نوپه مال باندے حرص شروع کړی اود هغے په جمع کولوکښ کوشش کوی نودا عمرپه دے پنځوحالتونوکښ تیرشی بیا ورپسے مرګ اوفنا ده نوهغه په طریقه د مثال سره ذکرکوی ﴿كَمَثَلِ غَيْثٍ﴾ حاصل د مثال دا دے چه باران اوشی نوبوټی خائسته پیداشی بیا اوچ شی بیا ئے رنګ بدل شی نوبیا ذرے ذرے بوس شی دارنګ انسان اول چه پیدا شی نوځه زمانے پورے تازه اوخوشحاله وی بیا ورباندے د دُنیا غمونه شروع شی نواوچیږی اورنګ ئے زیړشی او بیمارئ ورباندے راشی بیابوډاشی نومړشی ﴿وَمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَآ﴾ په دے جمله کښ د ما قبل ډپاره سبب ذکرکوی یعنی محبت د ځیزونودُ دُنیا انسان لره په دهوکه کښ واچوی نودغه تیرشوی حالات (پنځه) د هغے نه پیدا شی ﴿اَعْجَبَ الْكُفَّارَ﴾ غوره دا ده چه مراد د دے نه کافران دی ځکه چه اعجاب تکبرته وئیلے کیږی اود دُنیا په ځیزونو باندے تکبرکول د کافرانو کار دے۔

[۲۱] روستود تزهید فی الدنیا نه ترغیب الی الاخرة دے یعنی د دنیا د ژوند اود مال په ذریعه مغفرت اوجنت اوګټئے په انفاق فی سبیل اللّٰه سره ﴿ذٰلِكَ فَضْلُ اللّٰهِ﴾ دا دلیل دے چه جنت په فضل او رحمت د اللّٰه تعالیٰ سره حاصلیږی۔ هاں ایمان اوعمل صالح اللّٰه تعالیٰ ښکاره سبب ګرځولے دے۔

فِيْ كِتٰبٍ مِّنْ قَبْلِ اَنْ نَّبْرَاَهَا ؕ اِنَّ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرٌ ﴿٢٢﴾ لِّكَيْلَا تَاْسَوْا عَلٰى مَا
فَاتَكُمْ وَلَا تَفْرَحُوْا بِمَآ اٰتٰىكُمْ ؕ وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُوْرِ ﴿٢٣﴾ الَّذِيْنَ يَبْخَلُوْنَ
وَيَاْمُرُوْنَ النَّاسَ بِالْبُخْلِ ؕ وَمَنْ يَّتَوَلَّ فَاِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيْدُ ﴿٢٤﴾ لَقَدْ اَرْسَلْنَا

هغه دے په تقدیر (لیکلو) کښ مخکښ دَ موجود کولو دَ هغے نه یقینا دا په اللّٰه تعالیٰ باندے اسان دے (۲۲) (دا عقیده) دَ دے دپاره ده چه غمژن نه شئے په هغه نعمت چه فوت شی ستاسونه او لوئې اونکړئے په هغه نعمت چه درکړیدے تاسو ته او اللّٰه تعالیٰ نه خوښوی هرځان لوئے ګنړونکے اوخپل ستائینے کوؤنکے (۲۳) هغه کسان چه شومتیاکوی اوحکم کوی نوروخلقو ته په شومتیا کولو سره او چا چه مخ اوګرځوؤ نو یقیناً اللّٰه تعالیٰ هغه بے حاجته دے ستائیلے شویدے (۲٤) یقیناً رالیږلی دی مونږ

[۲۲] په دے ایت کښ پنځمه وجه دَ ترغیب الی الانفاق ده په طریقه دَ دفع کولودَ وهم سره یعنی که څوك وهم اوکړی چه مالونه خرچ کول پکارنه دی بلکه مصیبتونه دَ مخکښ نه په تقدیرکښ مقرردی هغه په مالونو سره نشی دفع کیدلے ﴿فِي الْاَرْضِ﴾ قحط، وبا، ګرانی، سیلابونه، زلزلے، فصلونه خرابیدل وغیره ﴿وَلَا فِيْ اَنْفُسِكُمْ﴾ مرضونه، فقیری، اولاد مړ کیدل تنګسیا دَ ژوندوغیره ﴿اِلَّا فِيْ كِتٰبٍ﴾ دا دلیل دے چه تقدیرصرف علم دَ اللّٰه تعالیٰ نه عبارت نه دے بلکه ورسره لیکل دی په لوح محفوظ کښ۔ نوځوك چه دَ تقدیر نه انکارکوی یا کتابت دَتقدیرنه منی بلکه صرف علم دَ اللّٰه تعالیٰ منی دواړه په باطله عقیده کښ مبتلا دی اګرچه په دواړو کښ فرق شته دے ﴿اِنَّ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرٌ﴾ په دے سره هغه وهم دفع کوی چه اللّٰه تعالیٰ په راتلونکی حالاتوباندے څه رنګ علم لری اودارنګ دا بے شماره څیزونه ئے څرنګے اولیکل په دے جمله سره ئے جواب اوکړو چه دَ اللّٰه تعالیٰ دَعلم اوقدرت په نسبت دا ټول اسان دی، دا په مخلوق باندے قیاس کول جائزنه دی۔

[۲۳] پدیکښ فائدے دَ ایمان بالتقدیر ذکرکړیدی۔ نو اوله فائده دا ده چه دَ انسان نه څه نعمت فوت شی عافیت، روزی، صحت، مال وغیره نو په هغے پسے به خفګان نه کوی او اوبه وائې چه داځیزکه زما دپاره مقرر وے نو زمانه به نه فوت کیدلو۔ دویمه فائده دا ده چه ﴿وَلَا تَفْرَحُوْا﴾ یعنی چاته چه څه نعمت اورسیږی عافیت ، فراخی دَ مال وغیره نوهغه به په هغے باندے لوئې اوتکبرنه کوی بلکه اوبه وائې چه دا زما په کوشش سره نه دے حاصل شوے بلکه اللّٰه تعالیٰ مقررکړے وؤ ﴿وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُوْرٍ﴾ دا ذکردَ صفاتوقبیحودے چه په انکاردَ تقدیرنه پیداکیږی بیا په مینځ دَ دے دواړوکښ فرق په ډیرو وجو سره دے۔ اول دا چه مختال هغه دے چه خپل ځان لوئے ګنړی اوفخورهغه دے چه بل چا باندے خپله لوئې ښکاره کوی۔ دویم داچه ځان ته دَ لوئے په نظرسره ګوری نومختال دے اوچه نوروخلقوته په سپك نظرسره ګوری نو فخوردے۔

[۲٤] دا زجردے بخلاؤته اودَ تقدیرنه منلو اثار ذکرکوی ﴿يَبْخَلُوْنَ﴾ دا عام دے بخل کول په علم اوپه مال اوپه احسان کښ ټولوته شامل دے بلکه ابن کثیر وئیلی دی چه هرفعل دَمنکرته شامل دے ﴿وَيَاْمُرُوْنَ النَّاسَ بِالْبُخْلِ﴾ یعنی پخپله هم ګمراه دے او نور خلق هم ګمراهئی ته بلی۔ ضال او مضِل دے لکه سورة

رُسُلَنَا بِالْبَيِّنٰتِ وَ اَنْزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتٰبَ وَ الْمِيْزَانَ لِيَقُوْمَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ ۚ وَ اَنْزَلْنَا
الْحَدِيْدَ فِيْهِ بَاْسٌ شَدِيْدٌ وَّ مَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَ لِيَعْلَمَ اللّٰهُ مَنْ يَّنْصُرُهٗ وَ رُسُلَهٗ بِالْغَيْبِ ؕ
اِنَّ اللّٰهَ قَوِيٌّ عَزِيْزٌ ﴿٢٥﴾ وَ لَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا وَّ اِبْرٰهِيْمَ وَ جَعَلْنَا فِيْ ذُرِّيَّتِهِمَا النُّبُوَّةَ وَ الْكِتٰبَ
فَمِنْهُمْ مُّهْتَدٍ ۚ وَ كَثِيْرٌ مِّنْهُمْ فٰسِقُوْنَ ﴿٢٦﴾ ثُمَّ قَفَّيْنَا عَلٰۤى اٰثَارِهِمْ بِرُسُلِنَا وَ قَفَّيْنَا بِعِيْسَى ابْنِ
مَرْيَمَ وَ اٰتَيْنٰهُ الْاِنْجِيْلَ ۙ وَ جَعَلْنَا فِيْ قُلُوْبِ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُ رَاْفَةً وَّ رَحْمَةً ؕ وَ رَهْبَانِيَّةَ ۨ

رسولان خپل په بنکاره حکمونو سره او نازل کړیدی مونږ دَ دوی دَ ملګرتیا دَپاره کتابونه او دَ تَلَلو ځیز دپاره دَ دے چه اودریږی خلق په انصاف سره او پیدا کړیده مونږ (په اسمانی تدبیرونو) سره اوسپنه چه په هغے کښ (سامان) جنګ سخت دے اونورے نفعے دی خلقو لره او دَ دے دپاره چه بنکاره کړی الله تعالیٰ هغه چا لره چه مدد کوی دَ هغه او دَ رسولانو دَ هغه سره سره دَ نه لیدلو نه یقیناً الله تعالیٰ قوت والا زورآور دے (٢٥) او یقیناً لیږلی دی مونږ نوح(علیه السلام) او ابراهیم(علیه السلام) او ورکړل مونږ په اولاد دَ دوی کښ پیغمبری او کتابونه نو بعض دَ دوی نه هدایت موندونکی دی او ډیر دَ دوی نه پوره نافرمان دی (٢٦) بیا پرله پسے اولیږل مونږ دَ دوی نه روستو رسولان زمونږ او په دوی پسے اولیږلو مونږ عیسیٰ(علیه السلام) ځوئے دَ مریم او ورکړو مونږ هغه ته انجیل او واچوله مونږ په زړونو دَ هغه چا کښ چه دَ دهٔ تابعداران وؤ نرمی په یو بل باندے او رحم کول او په ګوتونو کښ کیناستل

منافقون(٧) کښ راځی۔

[٢٥] دَ دے ایت نه تر اخرد سورة پورے دویم باب دے خلاصه ئے دا ده چه پدیکښ ترغیب دے جهادته په طریقه دَ دعوت بالکتاب اوپه قتال دَ استعمال دَ حدید سره اودَ دواړو فائدے ذکر کړی دی بیا دلیل نقلی دے دَ نوح او ابراهیم او عیسیٰ علیهم السلام نه چه دَ دے ټولودغه طریقه وه بیا زجردے په بدعت دَ رهبانیت سره۔ بیا ترغیب دے کتابیانوته په ایمان راوړلوپه اخری رسول باندے په حصول دَ دوچند اجراوپه حصول دَ فضل دَ الله تعالیٰ سره ﴿وَالْمِيْزَانَ﴾ یعنی هغه کتاب میزان وؤدَپاره دَ فرق دَحق اوباطل یا دَ دے نه حکم دے په عدل سره ﴿لِيَقُوْمَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ﴾ حاصل دا چه رسولانواول دعوت کوؤخلقوته په کتاب اوپه سنت سره دَ دے دَپاره چه خلق په دین دَ توحید اودَ اسلام باندے پاخه اودریږی ﴿وَاَنْزَلْنَاالْحَدِيْدَ﴾ مناسبت دَ محکمیں جملے سره دا دے چه اول خودعوت دے په کتاب اوسنت سره او ورپسے قتال کول دی په استعمال دَ الاتودَ اوسپنے سره۔دَ دے وجے نه اوله فائده دَ دے ئے په فِيْهِ بَاْسٌ شَدِيْدٌ، سره ذکر کړه مراد ترینه الات دَ جنګ جوړول دی په هره زمانه کښ چه ځومره اسباب دَجنګ دی نودَ اوسپنے نه جوړیږی اودے ترتیب ته ابن کثیرهم په تفسیرکښ اشاره کړیده ﴿وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ﴾ په دے کښ ډیروځیزونوته اشاره ده چه په انسانی ژوندکښ پکاریږی تبر، ترخذ، اره، چاړه چاقو، پاله، نورے مشینرئے وغیره۔

[٢٦] دَ اجمال نه روستوتفصیل دے اودا دواړه ئے خاص ذکرکړل ځکه چه دعوت په طریقه دَ رد دَ مشرکانو سره اوجهاد دَ وخت دَ نوح(علیه السلام) نه شروع دے اودَ دوی په اولادکښ پیغمبران راغلی دی۔ یعنی

ابْتَدَعُوْهَا مَا كَتَبْنٰهَا عَلَيْهِمْ اِلَّا ابْتِغَآءَ رِضْوَانِ اللّٰهِ فَمَا رَعَوْهَا حَقَّ رِعَايَتِهَا ۚ فَاٰتَيْنَا الَّذِيْنَ
اٰمَنُوْا مِنْهُمْ اَجْرَهُمْ ۚ وَكَثِيْرٌ مِّنْهُمْ فٰسِقُوْنَ ﴿٢٧﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَاٰمِنُوْا بِرَسُوْلِهٖ

چه نوے جوړه کړه دوی دا طریقه نه وه فرض کړے دا مونږ په دوی باندے مګر لتهول د رضا د اللّٰه تعالیٰ نو دوی لحاظ اونکړو د هغے پوره لحاظ د هغے نو ورکړو مونږ هغه کسانو ته چه ایمان ئے راوړے وؤ د دوی نه ثواب د هغوی او ډیر د دوی نه وؤ پوره نافرمان (۲۷)اے ایمان والو ویره کوئے د اللّٰه تعالیٰ نه او ایمان راوړئے په رسول د هغه باندے

نوح علیه السلام دویم ابو البشر دے او ابراهیم علیه السلام خو ابو الانبیاء والرسل دے۔

[۲۷] دا ایت هم د مخکښ تفصیل سره متعلق دے ﴿عَلٰٓى اٰثَارِهِمْ﴾ اشاره ده چه دین د ټولو یودے او هغے دین ته ټولو دعوت کوؤاو اخری په ټولو کښ (زمونږ د نبی ﷺ نه مخکښ) عیسیٰ علیه السلام دے هغه هم د ابراهیم علیه السلام په اولاد کښ د طرف د مورنه وو اود دے تخصیص ئے په دے وجے سره کړے دے چه دهٔ دعوت او مجاهده په ډیر محنت سره کړے وه ﴿وَجَعَلْنَا فِيْ قُلُوْبِ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُ رَاْفَةً وَّرَحْمَةً وَرَهْبَانِيَّةً﴾ په دے کښ اشاره ده درے فریقود نصاریٰ ته ـ روایت کښ دی چه په دوی باندے داسے بادشاهان مقرر شول چه هغوی د دوی په دین کښ تحریف اوکړو نو د هغوی په مقابله کښ یو فرقے قتال شروع کړو تردے پورے چه هغوی شهیدان شول۔ دویمے فرقے صرف دعوت او تبلیغ شروع کړو نو هغوی ئے په ارو باندے اره کړل اوپه اورباندے اوسیزل۔ دریمه فرقه غرونو اوغارونوته لاړل د خپل دین د حفاظت د پاره اود اللّٰه تعالیٰ بندگی ئے کوله، ابن کثیر وئیلی دی دا حدیث اگر چه د داؤد بن المحبر راوی (چه وضاع دے) بے اعتباره دے لیکن د دے تقویت کړے شویدے په بل سند سره چه ابویعلی راوړے دے۔ نومعلومه شوه چه رأفة کښ اوله فرقه چه قتال کوؤنکی وه مراد ده اوپه رحمة کښ دویمه فرقه چه دعوت کوؤنکی وؤمراد دی اودریمه فرقه په رهبانیت سره مراد ده ﴿وَرَهْبَانِيَّةَ ِابْتَدَعُوْهَا﴾ په دے کښ دوه توجیه دی اول داچه رهبانیت که چرے په دوی کښ جائزوؤ نود ابتداع نه مراد د هغے کیفیت اوطریقه بدلول او مقصد بدلول دی اودیته بدعتِ اضافیه وئیلے کیږی۔ دویمه توجیه دا ده چه رهبانیت په دوی کښ د اصل نه منع وؤ نو ابتداع نه ابتداع حقیقی مراد ده ﴿فَمَا رَعَوْهَا﴾ ضمیر رهبانیت ته راجع دے یعنی دوی په رهبانیت کښ د اللّٰه تعالیٰ د رضا حاصلول پریخودو د هغے لحاظ ئے اونکړواود دُنیا د حصول د پاره ئے ذریعه اوګرځوله د دے د پاره چه خلق د دوی مریدان شی اود هغوی نه هدایا (تحفے) نذرانے راجمع کوی او حق ورته نه بیانوی بلکه هغوی د خپلے بندگئے په حیثیت ساتی۔ دویم احتمال داچه استثناء منقطع ده او دا په دویمه توجیه باندے بناء ده یعنی چه رهبانیت د اصل نه ناجائز وؤ معنیٰ دا چه رهبانیت مونږ دوی لره نوؤ جائز کړے لیکن فرض کړے وه مونږپه دوی باندے د اللّٰه تعالیٰ رضاحاصلول په طریقه د جهاد اود دعوت۔ ﴿فَمَا رَعَوْهَا﴾ ضمیر رضوان ته راجع دے په تاویل د خصلت سره۔

فائده: په تحقیق د رهبانیت کښ۔ رهبانیت په لغت کښ ویره کولوته وئیلے کیږی لکه په دے قول کښ وَاضْمُمْ اِلَيْكَ جَنَاحَكَ مِنَ الرَّهْبِ، او په اصطلاح د قرآن کښ د اللّٰه تعالیٰ نه ویره کول او د هغے ویره

د وجے د اللّٰه تعالیٰ د منهیاتونه ځان ساتل لکه په دے قول کښ، وَإِيَّايَ فَارْهَبُوْنَ۔ اوپه عرف کښ د اللّٰه تعالیٰ د ویرے د وجے نه د ځپل دین د حفاظت دپاره غارته یا صحراته تلل او د تلذ ذاتِ مباحه نه ځان ساتل او د اللّٰه تعالیٰ بندگی کول اوپه دے کښ دوه حالتونه دی یو حالت د ضرورت شرعی د وجے نه جُدائي اختیارول دی لکه چه فتنے ډیرے شی اوجهاد او دعوت بالکل نشی کیدے او په ځپل دین باندے ویره راشی نوپه داسے وخت کښ د خلقونه ډ ډه کول اوصحراء یا غارته تلل او دیته فرار للدین اوهجرت وئیلے کیدے شی لکه واقعه د اصحاب کهفو او دارنګ حدیث د ابو سعید خدریؓ چه رسول اللّٰهﷺ فرمائیلی دی چه نزدے ده چه داسے وخت به راشی چه غوره مال د مسلمان به ګلهے بیزے وی او د باران د ځایونونه به ئیے بوځی سرونودَ غرونوته چه تیخته به کوی په ځپل دین سره د فتنونه (بخاری)۔ لیکن په دے باندے د رهبانیت اطلاق لغةً یا مجازاً دے په شرعے کښ دیته رهبانیت نه وئیلے کیږی دارنګ غارِ حراء ته تلل د رسول اللّٰه ﷺ محکښ د قرآن شروع کیدلو اودَنبوت نه۔ دویم حالت بغیرد ضرورتِ شرعیه نه دَځلقونه جدائي اختیارول اوعبادت کول اوپه ځان باندے تکلیفونه اوریاضتونه تیرول دا زمونږپه شریعت کښ قطعاً منع دی لکه په حدیث د مسند احمدکښ راغلی دی چه رسول اللّٰهﷺ فرمائیلی دی د هر امت دَپاره رهبانیت دے اورهبانیت دَامت زما جهاد فی سبیل اللّٰه دے دا حدیث ابن کثیرذکرکړے دے اوپه شریعت دَعیسیٰؑ کښ د دے په باره کښ اختلاف دے یوقول دا دے چه هغوی په شرع کښ دا جائز وؤ۔ نوپه دے ایت کښ د نصاریٰ قباحت په سبب د رهبانیت د وجے د بدعتِ اضافیه نه دے یعنی د رهبانیت کیفیت اوطریقے اومقصد ئیے بدل کړی دی۔ دویم قول دا دے چه رهبانیت د هغوی په دین کښ منع وؤپشان د شریعت زمونږ۔ اوابن کثیر وئیلی دی چه دا ایت ذم د هغوی دے د دوؤ وجونه یوبه د دے وجے نه چه په دین د اللّٰه تعالیٰ کښ ابتداع د هغه څیز کړیده چه په هغے باندے امر د اللّٰه تعالیٰ نیشته او دویم داچه کم څیز چه دوی ګمان کوؤ چه دا قرابت دے په هغے باندے قیام اونکړو او د هغے لحاظ ئیے اونکړو۔ دریم دلیل دا دے چه قاسمی د مسیحیؑ نه نقل کړیدے او د هغوی د کتاب ریحانة النفوس نه چه رهبانیت په کتاب مقدس کښ نیشته اونه په دے باندے امر شرعی شته دا روستو خلقو د ځپل وهم نه جوړ کړے دے (دا حاصل د مضمون د هغه دے) او رهبانیت په روستنی عرف کښ دا دے چه د خلقونه کناره کشی اوکړی اونکاح هم په ځان حرام کړی او نور حلال طیبات هم حرام ګنړی تردے پورے چه مونځ د جماعت نه کوی غسل هم نه کوی بعض ختنه هم نه کوی۔ نشے کوی په غزلوسرودونوسره د روح غذا حاصلوی رقص کوی وغیره دا رهبانیت په هردین کښ حرام قطعی دے۔ لیکن را هبانودَ نصاریٰ اودارنګ صوفیاو اُو پیرانو د دے امت دا طریقه ایجادکړه اوپدے ذریعے سره دَځلقونه دُنیاحاصلوی اودا هغه دی چه قرآن کریم کښ د دوی حالت ئیے ذکر کړے دے ۔إِنَّ كَثِيْرًا مِّنَ الْأَحْبَارِ وَالرُّهْبَانِ لَيَأْكُلُوْنَ أَمْوَالَ النَّاسِ بِالْبَاطِلِ وَيَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ (سورة توبه ۳٤) اوپه دوی باندے رد دے په سورة مائده (۸۷) کښ۔

يُؤْتِكُمْ كِفْلَيْنِ مِنْ رَّحْمَتِهٖ وَيَجْعَلْ لَّكُمْ نُوْرًا تَمْشُوْنَ بِهٖ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۲۸﴾
لِّئَلَّا يَعْلَمَ اَهْلُ الْكِتٰبِ اَلَّا يَقْدِرُوْنَ عَلٰى شَيْءٍ مِّنْ فَضْلِ اللّٰهِ وَاَنَّ الْفَضْلَ بِيَدِ اللّٰهِ يُؤْتِيْهِ
مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ﴿۲۹﴾ ع

نو دربه کړی تاسو ته دوه انډۍ دَ رحمت خپل نه او پیدا به کړی تاسو لره رنړا چه کړئ به تاسو په هغے سره او بخنه به او کړی تاسو ته او اللّٰه تعالیٰ بخنه کوؤنکے رحم کوؤنکے دے (۲۸) دَ دے دپاره چه پوهه نشی کتاب والا چه دوی قدرت نه مومی په هیڅ څیز باندے دَ فضل دَ اللّٰه تعالیٰ نه او یقیناً فضل خو په لاس دَ اللّٰه تعالیٰ کښ دے ورکوی ئیے هغه چا ته چه او غواړی او اللّٰه تعالیٰ خاوند دَ فضل لوئے دے (۲۹)

[۲۸] هرکله چه حال دَ کتابیانو مخکنو ئیے ذکر کړوپه دے قول سره چه و کثیرمنهم فاسقون نوپه دے ایت کښ هغوی ته دعوت الی الرسول ورکوی دَپاره دَ دے چه دَ فسق نه بچ شی ﴿يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا﴾ نه مراد زاړه مؤمنان دی چه په موسیٰ او عیسیٰ علیهما السلام باندے ایمان راوړے دے اوپه زمانه دَ اخری رسول کښ موجود وی ﴿اتَّقُوا اللّٰهَ﴾ مراد دَ دے نه دَ عقیدے دَ شرك اوتثلیث اوتشبیه نه ځان ساتل دی کوم چه یهودیانو اونصاریٰ دَځان نه جوړ کړی دی ﴿يُؤْتِكُمْ كِفْلَيْنِ﴾ کفل په اصل کښ هغه زړے شړئے ته وئیلے کیږی چه دَ اوښ په شاباندے غوړوی دَ دے دَپاره چه بنده پرے دَ سورلئے نه اونه غورځیږی اوبیا ویلے کیږی برخے اوحصّے دَثواب ته چه انسان لره دَ بدبختئے نه بچ ساتی۔ مراد ترینه دوچند ثواب دے ﴿وَيَجْعَلْ لَّكُمْ نُوْرًا﴾ مراد دَ دے نه هغه نور دے چه په قرآن کریم سره حاصلیږی په دُنیا کښ په علومو قرآنیو سره اوپه اخرت کښ هغه دے چه پدے سورة کښ دوه کرته ذکرشوپه (۱۲، ۱۹) کښ ﴿تَمْشُوْنَ بِهٖ﴾ مشی نه مراد په دنیا کښ ژوند تیرول موافق دَ قرآن اوسنت سره دی اوپه مشی کښ اشاره ده بشارت دُنیویه ته چه ستاسو دین به غالب وی او شهرت اوعزت به موهم وی۔

[۲۹] په دے ایت کښ درے توجیهات دی اوله دا متعلق دے دَ مضمون دَ ایت مخکنی سره هغه داچه که چرے تاسو ایمان په دے رسول باندے روارونو هغه درے فائِدے به درکړی (چه مخکښ ذکرشوی) دَ دے دَپاره چه پوهه شی هغه کتابیان چه ایمان ئیے ندے راوړے چه دوی قادرنه دی په هیڅ فضل دَ اللّٰه تعالیٰ یعنی دغه تیر شوے فائدے ۔ دویمه معنیٰ دا ده چه (دا رسول مے په غیر دَ اهل کتابو کښ) را اولیږلو دَپاره دَ دے چه پوهه شی کتابیان ټول چه دا نبی او امت دَ دهٔ وس لری په فضل دَ اللّٰه تعالیٰ باندے چه رسالت او فضیلت دے۔ دریمه معنیٰ دا ده چه (مونږ تاسوله دعوت درکړو چه په دے اخری رسول باندے ایمان راوړئ) دَپاره دَ دے چه خبرشی کتابیان (راهبان) چه دوی وَس اوطاقت اومندلو په جهاد فی سبیل اللّٰه کولو باندے او دا توفیق دَ اللّٰه تعالیٰ په لاس کښ دے ، ورکوی چه چاته اللّٰه تعالیٰ اوغواړی۔

سُوْرَةُ الْمُجَادِلَةِ (٥٨) مَدَنِيَّةٌ (١٠٥) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ٢٢ رُكُوْعَاتُهَا ٣

قَدْ سَمِعَ اللّٰهُ قَوْلَ الَّتِيْ تُجَادِلُكَ فِيْ زَوْجِهَا وَتَشْتَكِيْٓ اِلَى اللّٰهِ ۖ وَاللّٰهُ يَسْمَعُ تَحَاوُرَكُمَا ۭ اِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌۢ بَصِيْرٌ ۝ اَلَّذِيْنَ يُظٰهِرُوْنَ مِنْكُمْ مِّنْ نِّسَاۗىِٕهِمْ مَّا هُنَّ اُمَّهٰتِهِمْ ۭ اِنْ اُمَّهٰتُهُمْ اِلَّا الّٰۗـِٔيْ وَلَدْنَهُمْ ۭ وَ

یقیناً واوریدله الله تعالیٰ وینا دَ هغه زنانه چه بحث ئیے کوؤ تاسره په باره دَ خاوند خپل کښ او ګیله ئیے کوله الله تعالیٰ ته (دَ خاوند نه) او الله تعالیٰ اوریدلے خبرے اترے ستاسو یقیناً الله تعالیٰ هر څه اوری هر څه وینی (۱) هغه کسان چه ظهار کوی ستاسو نه دَ زنانۂ خپلو سره نه دی دوی میندے دَ هغوی، نه دی دَ دوی میندے مګر هغه دی چه زیګولے دی دوی لره او

سورة المجادله

(په زیر دَ دال اوپه زور دَ دال دواړوسره)

او سورة الظهار او سورة قدسمع هم ورته وئیلے کیږی۔

ربط: دَ دے سورة دَ ما قبل سره په یوځو طریقوسره دے اوله وجه دا چه مخکښ سورة کښ ترغیب وؤانفاق اوجهادکولوته دَپاره دَ اصلاح دَعالم نوپه دے سورة کښ زجردے په فسادکوؤنکوباندے۔ دویمه طریقه په هغه سورة کښ رد وؤپه بدعت دَکتابیانوباندے نوپه دیے سورة کښ رد دے په بدعت دَعوامودَجاهلیت باندے چه هغه تحریم دَ ښځے دے په سبب دَ ظهار سره۔

دعویٰ دَ سورة: زجراومنع ده دَ طریقودَ فساد چه هغه ئیے شپږذکرکړی دی،(۱) تحریم په ظهارسره۔ (۲) محادّه دَ الله تعالیٰ او دَ رسول سره (۳) نجوٰی په ګناه اوعدوان سره (٤) تحیه کول په غیرشرعی طریقے سره (٥) قسم کول په دروغه سره (٦) صد عن سبیل الله اوماخذ دَ دعوے په (٥) او(۲۰) کښ دے اوپه دے سورة کښ رد دے په شرك فی العلم باندے اواسماء حسنیٰ ئیے یؤولس ذکرکړی دی۔

خلاصه دَ سورة: داسورة تقسیم دے دوه بابونوته اول باب تر(١٤)پورے دے۔ پدیکښ سبب دَ رد په تحریم بالظهارباندے ذکرکوی بیا ردپه تحریم بالظهاراودَ هغے کفاره ذکرکوی بیا رد دے په محادّه کوؤنکوباندے سرهٔ دَ تخویف نه۔ بیائیے ذکرکړیدے عموم دَ علم دَ الله تعالیٰ دپاره دَ تخویف دَ نجوٰی کوؤنکواو ردکوی په نجوٰی غیرشرعی باندے چه ټول اسباب دَفساد دی بیا ذکرکوی درے قوانین دَپاره دَاصلاح دَ ایمان والوچه هغه متعلق دی دَنجوٰی سره اول قانون فرق کول په مقصد دَنجوٰی کښ دویم ادب دَمجلس دَ نجوٰی په اکرام دَ ملګروسره دریم شرط دَ نجوٰی په تصدق مالی سره دَپاره دَ اخلاص اوپه هغے کښ تخفیف۔

تفسیر

[۱] ﴿قَدْ سَمِعَ﴾ سمع صفت دَ الله تعالیٰ دے په معنیٰ ظاهری سره اوتشبیه اوتمثیل اوتکییف اوتاویل ته هیڅ حاجت نه لری۔ اودلته سمع مستلزم دَ قبولیت مراد ده لکه سمع الله لمن حمده کښ﴿قَوْلَ الَّتِيْ تُجَادِلُكَ فِيْ زَوْجِهَا﴾ نوم دَدے زنانه خولة بنت ثعلبة دے اوخولة بنت مالك بن ثعلبة ورته هم وئیلے کیږی

اِنَّهُمْ لَيَقُوْلُوْنَ مُنْكَرًا مِّنَ الْقَوْلِ وَزُوْرًا ؕ وَاِنَّ اللّٰهَ لَعَفُوٌّ غَفُوْرٌ ۝۲ وَالَّذِيْنَ يُظٰهِرُوْنَ مِنْ نِّسَآئِهِمْ
ثُمَّ يَعُوْدُوْنَ لِمَا قَالُوْا فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مِّنْ قَبْلِ اَنْ يَّتَمَآسَّا ؕ ذٰلِكُمْ تُوْعَظُوْنَ بِهٖ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ
خَبِيْرٌ ۝۳ فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ مِنْ قَبْلِ اَنْ يَّتَمَآسَّا ؕ فَمَنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ فَاِطْعَامُ سِتِّيْنَ

یقیناً دوی ضرور وائي بده دَ وینا نه او دروغ او یقیناً اللّٰه تعالیٰ ضرور معافی کوؤنکے دے (۲) او هغه کسان چه ظهار کوی دَ زنانو خپلو سره بیا واپس کیږی (ماتولودَ) هغه خبرے ته چه دوی وئیلے وی نو ازادول دَ مرئي دی مخکښ دَ یو ځائے کیدلو دَ دوی نه دا وعظ درکیدیشی تاسو ته پدے سره او اللّٰه تعالیٰ ستاسو په عملونو باندے خبر دار دے (۳) نو څوك چه نه مومی (وس دَ سټ ازادولو) نو روژے نیول دی دوه میاشتے پرله پسے مخکښ دَ یو ځائے کیدلو دَ دواړونه نو څوك چه وس نه لری (دَ روژو نیولو) نو خوراك ورکول دی شپیته

اودَخاوند نوم ئے اَوسُ بن صامت رضی اللّٰه عنه وؤ او جدال ئے دَ نبی ﷺ په سوال وجواب سره وؤ چه دے اُوئیل خاوند ماسره ظهارکړے نو رسول اللّٰه ﷺ جواب ورکړو چه ماته په دے باره کښ هیڅ وحی نده راغلے بیا هغے اوئیل چه تاته دَ هرځیز په باره کښ وحی کیږی نو په دے باره کښ درته ولے وحی نه ده شوے هغه ورته اُوئیل چه دغه خبره ده۔ چه ما درته اُوئیل ﴿وَتَشْتَكِيْٓ اِلَى اللّٰهِ﴾ اشتکاء نه مراد خپل غم بنکاره کول دی ﴿وَاللّٰهُ يَسْمَعُ تَحَاوُرَكُمَا﴾ دا قرینه ده چه مراد دَ تُجَادِلُكَ نه محاوره کول دی جګړه کول مرادنه دی۔

[۲] پدیکښ رد دے په رسم دَ جاهلیت باندے او هغه سبب دَ فساد او دَتفرق وؤ هغه داچه چابه خپلے بنځے ته اُوئیل چه ته په ما باندے زما دَ موردَ شا پشان ئے نوهغه به دوی پشان دَ مورهمیشه حرامه ګنړله اوطلاق ابدی به ئے ګنړلو ﴿يُظَاهِرُوْنَ﴾ دا دَ ظهارنه ماخوذ دے او ظهار دَ ظهر نه دے ظهرپه اصل کښ مَلا(شا) ته وئیلے شی او دا کنایه وی دَ سورلئے نه او دَ سورلئے نه مراد جماع کول وو۔اودَ دے الفاظ اتفاقیه دا وی چه اوائي بنځے ته انتِ علیّ کظهرامیّ اودارنګ دَمورپه ځائے چه نَیا ذکرکړی اوکه چرے لوریا خوریا نورمحرماتوسره تشبیه ورکړی نوپه هغے کښ دَ اهل علم اختلاف دے ابن کثیر وئیلی دی چه صحیح داده چه په هغے سره هم ظهار لازمیږی ﴿مُنْكَرًا مِّنَ الْقَوْلِ﴾ یعنی دا شرعاً ناجائز دے اواهل عقل هم بدګنړی ﴿وَزُوْرًا﴾ یعنی دَحقیقت(واقع) نه مخالف دے ځکه داچه جمله خبریه شی نوبنځه خومورنه ده اوکه جمله انشائیه شی نو بنځه مستقبل کښ هم دَ خاوند دپاره مورنشی کیدے۔

[۳] پدے ایت کښ تفصیل دَکفارے دَظهاردے یعنی په ظهارسره ابدی تحریم نه راځی بلکه کفاره فقط لازمیږی ﴿ثُمَّ يَعُوْدُوْنَ لِمَا قَالُوْا﴾ اوله معنیٰ دا چه دَ دے لفظ تکرار اوکړی دا عود دے۔ دویمه معنیٰ داچه جاهلیت کښ ئے کړے وی او بیا ئے په اسلام کښ اوکړی۔ دریمه معنیٰ داچه اراده دَجماع اوکړی دَپاره دَتحلیل ﴿مِنْ قَبْلِ اَنْ يَّتَمَآسَّا﴾ مراد دَ مس نه جماع ده اوقَبل اولمس په لاس سره هم پدیکښ داخل دی۔ لیکن که چرے جماع وغیره ئے دَ کفارے نه وړاندے کړے وی نو صحیح دا ده چه استغفارِ غواړی اوکفاره به یوه وی۔

مِسْكِينًا ؕ ذٰلِكَ لِتُؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ؕ وَتِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ ؕ وَلِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝۴ اِنَّ الَّذِيْنَ يُحَآدُّوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ كُبِتُوْا كَمَا كُبِتَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَقَدْ اَنْزَلْنَآ اٰيٰتٍۭ بَيِّنٰتٍ ؕ وَلِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ۝۵

مسکینانو ته دا دَ دے دپاره چه ایمان راوړے تاسو په اللّٰه تعالیٰ او په رسول دَ هغه باندے او دا پولے دَ اللّٰه تعالیٰ دی او خاص کافرانو لره عذاب درد ناك دے (٤) یقیناً هغه کسان چه خلاف کوی دَ پولو دَ اللّٰه تعالیٰ او دَ رسول دَ هغه نه ذلیل کړے شویدی لکه چه ذلیل کړے شویدی هغه کسان چه دَ دوی نه مخکښ وؤ او یقیناً نازل کړی دی مونږ ایاتونه واضح او خاص کافرانو لره عذاب رسوا کوؤنکے دے (٥)

[٤] کفاره په دے ترتیب سره ضروری ده اول تحریردَ رقبے چه په هغے باندے قدرت نه وی نو روژے دوه میاشتے دی اوچه دَ هغے وَس نه وی نوطعام ورکول شپیته مسکینانوته ﴿ذٰلِكَ لِتُؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ﴾ کفاره ورکول پدے ترتیب سره،اودارنګ دَظهاردَقول نه ځان بچ کول۔ اودَ وخت دَکفارے پورے ځان دَ مِساس(جماع) نه ساتل داټول ئے ذکرکړه په تعبیردَایمان سره نومعلومه شوه چه اعمال هم ایمان دے۔ ﴿وَتِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ﴾حد هغه وی چه تعیین ئے کړے شویوی اودَ هغے دَوجے نه زیاتے اوکمے کول په هغے کښ منع وی نواحکامودَ اللّٰه تعالیٰ کښ هم زیاتے کول په ابتداع سره اوکمے کول په فسق سره حرام دی۔

[٥] دَحدودو دَ ذکرنه روستومخالفت کوؤنکی دَحدودوته تخویف ورکوی ﴿يُحَآدُّوْنَ﴾ محادّه مخالفت کول دَ حدود شرعیه اودَ ځان نه حدود مقررکولوته وئیلے کیږی اوحدود لفظ عام دے هغه سزاګانوته شامل دے چه شرع مقررکړیدی۔ او دارنګ شامل دے ټولواحکاموته چه په کتاب اللّٰه اوصحیح حدیث سره ثابت وی۔ مفسر الوسی په روح المعانی کښ تفصیلی بحث لیکلے دے چه دَ هغے حاصل دا دے چه په دے ایت کښ سخت وعید دے بادشاهان او اُمراء سوء لره چه مخالف دَ حدود شرعیونه دَ ځان نه احکام مقرره وی او هغے ته دَ قانون نوم ورکوی بیا ئے وئیلی دی چه هرکله دَ قانون اوشرعے په مینځ کښ مقابله راشی نو هغه څوك چه قانون غوره ګڼړی نوهغه کافر دے لیکن په دے شرط سره چه قانون ته خائسته وائي او دَ حکمت سره موافق او فائده مندګڼړی او امرشرعی ته بدګوری اووائي دا دَ انسانی مصلحت سره موافق نه دے هاں هغه امورسیاسیه انتظامیه دَ تعزیرات یا دَ فوجی نظام باره کښ چه اصحاب الرای ئے جوړوی او دَ شریعت دَ اصولوسره ئے مصادمة (ټکراؤ) نه وی یا صرف دَ فقهی اجتهادی اصولونه مخالف وی نو هغه جائزدی۔ په دے باب کښ دَ شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه اللّٰه کتاب السیاست الشرعیه کتل پکاردی﴿كُبِتُوْا﴾ کبت په معنیٰ دَ ذلت اودَشرمندګئے اودَ هلاکت اودَ لعنت اوپرمخے غورځیدلوراځی۔اوداجمله خبریه ده په معنیٰ دَ مستقبل سره یا جمله دُعائیه ده په طریقه دَ تعلیم بندګانوته ﴿كَمَا كُبِتَ الَّذِيْنَ﴾ مراد دَ دے نه هغه یهودیان دی چه دَ هغوی دَ ذلیل کیدلوذکرسورة بقره اوسورة نساء کښ تیرشوے اوسورة حشر کښ هم راځی۔

يَوْمَ يَبْعَثُهُمُ اللّٰهُ جَمِيْعًا فَيُنَبِّئُهُمْ بِمَا عَمِلُوْا ؕ اَحْصٰىهُ اللّٰهُ وَنَسُوْهُ ؕ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ ۝٦ اَلَمْ تَرَ
اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ مَا يَكُوْنُ مِنْ نَّجْوٰى ثَلٰثَةٍ اِلَّا هُوَ رَابِعُهُمْ وَلَا خَمْسَةٍ اِلَّا هُوَ
سَادِسُهُمْ وَلَاۤ اَدْنٰى مِنْ ذٰلِكَ وَلَاۤ اَكْثَرَ اِلَّا هُوَ مَعَهُمْ اَيْنَ مَا كَانُوْا ۚ ثُمَّ يُنَبِّئُهُمْ بِمَا عَمِلُوْا يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ
اِنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ۝٧ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ نُهُوْا عَنِ النَّجْوٰى ثُمَّ يَعُوْدُوْنَ لِمَا نُهُوْا عَنْهُ وَيَتَنٰجَوْنَ

په هغه ورځ چه راپورته به کړي دوی لره الله تعالیٰ ټول نوخبر به ورکړي دوی لره په عملونو د دوی راګیر کړے وی هغه الله تعالیٰ او دوی هیرکړیدی او الله تعالیٰ په هر څیز باندے حاضر دے (٦) ایاته نه ګورے چه یقیناً الله تعالیٰ عالم دے په هغه څیزونو چه په اسمانونو کښ دی او په هغه څیزونو چه په زمکه کښ دی نه کیږی هیڅ جرګه د درے کسانو مګر الله تعالیٰ څلورم د هغے دے اونه د پنځه کسانو مګر هغه ئے شپږم دے او نه کم د دے نه ، او نه زیات مګر هغه د دوی سره وی هر ځائے چه دوی وی بیا به خبر ورکړی دوی لره په هغه عملونو چه دوی کړیدی په ورځ د قیامت یقیناً الله تعالیٰ په هر څیز باندے پوهه دے (٧) ایا ته نه ګورے هغه کسانو ته چه منع کړے شویدی د جرګو کولو نه بیا راګرځی هغه کارته چه منع شویدی د هغے نه او جرګے کوی

[٦] داهم تخویف کښ داخل دے ﴿فَيُنَبِّئُهُمْ بِمَا عَمِلُوْا﴾ اشاره ده چه محادینواګرچه په دنیاکښ مخالفت پټ کوؤ لیکن په ورځ د قیامت به ئے الله تعالیٰ ښکاره کړی ﴿وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ﴾ دمشاهدے نه ماخوذ دے په معنیٰ د نظر کوؤنکی یا د شهودنه ماخوذ دے په معنیٰ د حضوراودَ علم یعنی حاضرناظر اوعالم دے۔

[٧] دا تائید دے د ماقبل (وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ) او تنبیه ده چه نجویٰ کولو کښ د الله تعالیٰ نه ویره کوئے یعنی په ګناه سره جرګے مکوئے الله تعالیٰ تاسو باندے عالم دے ۔ په دے ایت کښ په اوله جمله کښ عمومی علم د الله تعالیٰ ئے بیان کړو په اعتبار د مکاناتوسره یعنی علم د الله تعالیٰ په یومکان پورے خاص نه دے۔ اوپه دویمه جمله کښ عموم دعلم د الله تعالیٰ ذکرکوی په اعتبارد شمارد خلقوسره په وخت د جرګه کولوکښ۔ اوپه دریمه جمله کښ تنبیه ده په جزا ورکولوسره په ورځ د قیامت کښ اوپه څلورمه جمله کښ عموم د صفت د الله تعالیٰ دے هرځیز ته که مکان وی که زمان وی که عدد وی که قول وی۔ اوکه عمل وی که ماضی وی اوکه حال وی یا مستقبل وی وغیره ﴿ثَلٰثَةٍ اوخَمْسَةٍ﴾ تخصیص ئے د دے وجے نه اوکړوچه اکثروخت جرګه کښ دوه طرفونه وی اویوپکښ فیصله کوؤنکی پکار وی نودَ هغے ادنیٰ عدد درے شول او ورپسے پنځه شول اوکله کم وی اوکله زیات وی په سبب د ضرورت سره نوهغه ئے په ﴿وَلَاۤ اَدْنٰى مِنْ ذٰلِكَ وَلَاۤ اَكْثَرَ﴾ سره ذکرکړو اوبله وجه دا ده چه غوره عدد وتردے په نسبت د زوج سره ﴿اِلَّا هُوَ رَابِعُهُمْ﴾ ثالثهم، ئے نه دے وئیلے اشاره ده چه الله تعالیٰ دمخلوق دجنس نه نه دے بلکه د دوی نه غیردے۔ اوتفصیل د معیت په تفسیرد سورة حدیدکښ تیرشویدے اود دے په تفسیرکښ ابن جریرلیکلی دی چه ضحاكؒ وئیلی دی چه الله تعالیٰ دعرش دپاسه دے اوعلم ئے دمخلوق سره وی که په هر ځائے کښ دوی موجود وی اوابن کثیرؒ وئیلی دی اجماع ده په دے خبره باندے چه مراد په دے ایت سره

بِالْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَمَعْصِيَتِ الرَّسُوْلِ ۫ وَاِذَا جَآءُوْكَ حَيَّوْكَ بِمَا لَمْ يُحَيِّكَ بِهِ اللّٰهُ ۙ وَيَقُوْلُوْنَ فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ
لَوْلَا يُعَذِّبُنَا اللّٰهُ بِمَا نَقُوْلُ ۭ حَسْبُهُمْ جَهَنَّمُ ۚ يَصْلَوْنَهَا ۚ فَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ۝ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا تَنَاجَيْتُمْ فَلَا
تَتَنَاجَوْا بِالْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَمَعْصِيَتِ الرَّسُوْلِ وَتَنَاجَوْا بِالْبِرِّ وَالتَّقْوٰى ۭ وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِيْٓ اِلَيْهِ
تُحْشَرُوْنَ ۝ اِنَّمَا النَّجْوٰى مِنَ الشَّيْطٰنِ لِيَحْزُنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَلَيْسَ بِضَاۗرِّهِمْ شَيْـــًٔا اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ۭ

په ګناه او ظلم او په نافرمانئ دَ رسول سره او هر کله چه دوی تاته راځی نو سلام کوی تاته په هغه طریقه چه سلام نه دے خودلے په هغے سره اللّٰه تعالیٰ تاته او دوی وائي په خپلو زړونو کښ ولے سزا نه راکوی مونږ ته اللّٰه تعالیٰ دَ هغه چه مونږ وایو پوره دے دوی لره جهنم ورننوځی به دوی هغے ته نو بد ځائے دَ ورتللو دے (۸) اے ایمان والو هر کله چه جرګے کوئے تاسو نو جرګے مه کوئے په ګناه او ظلم سره او په نافرمانئ دَ رسول سره او جرګے کوئے په نیکئے کولو او تقویٰ سره ، او ویره کوئے دَ اللّٰه تعالیٰ نه هغه ذات چه هغه ته په جمع کړے شئے تاسو (۹) یقیناً دا قسم جرګے دَ شیطان (په وسوسے سره وی) دَ دے دپاره چه غمژن کړی مؤمنانو لره او نه دی ضرر ورکوؤنکی مؤمنانو ته هیڅ ضرر مګر په حکم دَ اللّٰه تعالیٰ سره

معیّت دَعلم دَاللّٰه تعالیٰ دے۔

[۸] په دے کښ زجردے په ځلورو کارونودَ مفسدانوسره۔ اول عود نجویٰ منهی عنه ته۔ دویم تناجی دَپاره دَ ناجائزکارونو دریم سلام کول خلاف دَ سنت نه ځلورم ځان دَګناه اوعذاب نه پاك ګنړل۔ ﴿بِالْاِثْمِ﴾ مراد دَ دے نه هرهغه ګناه ده چه دَ حقوق اللّٰه سره تعلق لری لکه کفر، شرك، دروغ وئیل او بدکاری وغیره۔ ﴿وَالْعُدْوَانِ﴾ هغه ګناه ده چه حقوق دَ بندګانوسره تعلق لری لکه ظلم کول، بهتان ترړل، غیبت کول مال دَ غیرغصب کول وغیره ﴿وَمَعْصِيَتِ الرَّسُوْلِ﴾ هرهغه ګناه ده چه حق دَپیغمبرسره تعلق لری لکه دَهغه دَسنت نه مخالفت کول، دَهغه بے ادبی کول، بدعات او رسمونه رواجونه کول ﴿حَيَّوْكَ بِمَالَمْ يُحَيِّكَ بِهِ اللّٰهُ﴾ دا شامل دے هغه الفاظ اوطریقے دَ سلام ته چه دَ شرعے نه خلاف وی لکه لفظ السَّامُ عَلَيكَ، په خیر راغلے، په بنه چارشے۔ اَنعِم صبَاحاً (صبادِ بنه شه)،ورځ دِ بنه شه یا په ګوتو او په لاس اوچتولوسره سلام کافی ګنړل او ابتداء په السّلام علیکم سره نه کول۔ او په دا سے حالت کښ هغه حقدار دَ جواب دَ سلام نه دے۔

[۹] روستودَ زجرورکولونه مفسدانوته په ناجائزتناجی کولومؤمنانولره اول قانون اصلاحی دَتناجی په باره کښ ذکرکوی حاصل دادے چه کله مؤمنان یوجرګه، اجلاس، میټنګ کوی یایواجلاس ته را اوبللے شی نوضروری دا ده چه دَناجائز اجلاس کولواودَ هغے دَ شرکت نه دِځان بچ اوساتی ﴿بِالْبِرِّ وَالتَّقْوٰى﴾ (بِر) اشاره ده امتثال دَ ماموراتوته او تقویٰ اشاره ده اجتناب دَ منهیاتوته یا بِر احسان کول دَ مخلوق سره او تقویٰ حقوق اللّٰه ته اشاره ده۔

وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ⑩ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا قِيْلَ لَكُمْ تَفَسَّحُوْا فِي الْمَجٰلِسِ فَافْسَحُوْا يَفْسَحِ اللّٰهُ لَكُمْ ۚ وَاِذَا قِيْلَ انْشُزُوْا فَانْشُزُوْا يَرْفَعِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ ۙ وَالَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ دَرَجٰتٍ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ⑪ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا نَاجَيْتُمُ الرَّسُوْلَ فَقَدِّمُوْا بَيْنَ يَدَيْ نَجْوٰىكُمْ

او خاص په الله تعالیٰ باندے توکل کوی مؤمنان (۱۰) اے ایمان والو کوم وخت چه اُوئیلے شی تاسو ته ځائے پریږدئے یوبل ته په ځایونو دَ ناسته کښ نو ځائے پریږدئے ځائے به فراخ کړی الله تعالیٰ تاسو لره او کوم وخت چه اوئیلے شی پاسئے دَ خپل ځائے نه نو پاسئے اوچتوی الله تعالیٰ مؤمنانو لره ستاسو نه او هغه کسان چه علم ورکړے شویدے په ډیرو درجو سره او الله تعالیٰ ستاسو په عملونو باندے خبر دار دے (۱۱) اے ایمان والو هر کله چه جرګه کول غواړئے دَ رسول(ﷺ) سره نو اولیږئے مخکښ دَ جرګے ستاسو نه

[۱۰] په دے کښ رد دے په بے ضرورته جرګے کولوباندے اوهغه جرګے کول دَ منافقانودی په مخالفت دَ مؤمنانو کښ ﴿لِيَحْزُنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا﴾ یعنی منافقان چه هرکله جرګه کوی نوضرورد مؤمنانوپه مخالفت کښ ئیے کوی۔ هغوی ته دَ ضرر رسولودپاره ئیے کوی ﴿وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ﴾ یعنی هرکله چه مؤمنان دَ هغوی دَجرګونه څه ویره محسوسه کړی نودَ هغوی دَ شرنه دے پناهی اوغواړی اوپه الله تعالیٰ باندے دے ځان اوسپاری اودَ الله تعالیٰ دَ مدد انتظاردے کوی۔

[۱۱] دا دویم ادب دَمؤمنانودَپاره دَ مجلس دَتناجی سره متعلق دے چه په دے کښ امردے په اکرام اوعزت دَملګرودَ ایمان دَ وجے نه اودَ اهل عِلمو زیات اکرام اوعزت کول۔ اوپدیکښ اشاره ده چه دَ مجلس اوجماعت شرکاء به مساوی نه ګڼړئ بلکه علم والوله به افضله مرتبه اوعهده ورکیدیشی۔ ﴿اِذَا قِيْلَ لَكُمْ تَفَسَّحُوْا فِي الْمَجَالِسِ﴾ تَفَسُّح، نه مراد دا دے چه په خپل ځائے باندے داسے کینی چه دَ بل ملګری ځائے بند نه کړی دا معنیٰ نده چه فراخ اوکولاؤ کینی اودَ بل چا دَکیناستلوځائے بندکړی۔ (اَلْمَجَالِسِ) دَ دے نه مراد عام مجلس دَ ذکراودَ خطبے اوریدلودے اومجلس دَ مشورے کولواومجلس دَ درسونو وغیره دے ﴿وَاِذَا قِيْلَ انْشُزُوْا﴾ مراد دَ دے دا دے چه امیرمجلس چاته امراوکړی چه دَ خپل ځائے نه پورته شه دَ دے دَپاره چه مشرسړی له ځائے ورکړی نودا شخص به دا امر منی او دارنګ چه امراوکړی دَ مانځه دَپاره، جهاد دپاره، بل څه کارِخیر دپاره چه دَ خپل ځائے نه او دریږئ نو دا امر به هم منلے کیږی ۔ او ابن حجر دَ ابن رشد نه نقل کړیدی چه قیام په څلور قسمه دے او ل قسم حرام دے هغه داچه یو شخص غواړی دَ وجے دَ تکبرنه چه ماته دِ قیام اوکړے شی دویم قسم مکروه دے هغه داچه یو شخص قیام په دے وجے سره بدګڼړی چه متکبرینو سره تشبیه رانشی او یازما په زړه کښ تکبّر پیدا نشی دریم قسم جائز دے هغه داچه یو شخص قیام دَ خلقونه نهٔ غواړی او دَ هغه دَ اکرام او دَ بر دَ وجے نه هغه ته قیام اوکړے شی څلورم قسم مستحب دے هغه قیام دَ هغه چادَ پاره دے چه دَ سفرنه راشی یا هغه څوك چه هغه ته په څه نعمت باندے مبارکی ورکیدے شی یا په څه مصیبت کښ تعزیه ورکیدے شی زیات تفصیل فتح الباری ص(٥٤) جلد(۱۱) کښ دے ﴿يَرْفَعِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا﴾ اشاره ده چه ایمان سبب دَ رفعت دے ﴿وَالَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ دَرَجٰتٍ﴾ په دے کښ دوه توجیه دی اول دا چه رفعت په ایمان سره دے بیا ډیرے درجے اورفعت په علم سره دے اواشاره ده چه

صَدَقَةً ؕ ذٰلِكَ خَيْرٌ لَّكُمْ وَاَطْهَرُ ؕ فَاِنْ لَّمْ تَجِدُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۲﴾ ءَاَشْفَقْتُمْ اَنْ تُقَدِّمُوْا
بَيْنَ يَدَىْ نَجْوٰىكُمْ صَدَقٰتٍ ؕ فَاِذْ لَمْ تَفْعَلُوْا وَتَابَ اللّٰهُ عَلَيْكُمْ فَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ وَاَطِيْعُوا
اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ؕ وَاللّٰهُ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۳﴾ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ تَوَلَّوْا قَوْمًا غَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ ؕ ع ۲
مَا هُمْ مِّنْكُمْ وَلَا مِنْهُمْ ۙ وَيَحْلِفُوْنَ عَلَى الْكَذِبِ وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۴﴾ اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ عَذَابًا شَدِيْدًا ؕ اِنَّهُمْ

خیرات دا غوره ده تاسو لره اوپاکوؤنکے ده نو که تاسو نه مومئے (صدقه) نو یقیناً اللّٰه تعالیٰ بخنه کوؤنکے رحم کوؤنکے دے (۱۲) ایا اویریدلئے تاسو چه اولیږئ مخکښ دَ جرګے ستاسو نه خیراتونه نو کله چه اونکړئے (دَ عجز دَ وجے نه) او اسانتیا راوسټله اللّٰه تعالیٰ په تاسو باندے نوپابندی دَ مونځ کوئے اوورکوئے زکوٰة او اطاعت کوئے دَ اللّٰه تعالیٰ او دَ رسول دَ هغه او اللّٰه تعالیٰ خبردار دے په هغه عملونو باندے چه تاسوئے کوئے (۱۳) ایانه ګورے ته هغه کسانو ته چه دوستانه کوی دَ داسے قوم سره چه غضب کړیدے اللّٰه تعالیٰ په هغوی باندے نه دی هغوی ستاسو نه او نه دَ دوی نه او قسمونه کوی په دروغو باندے او دوی پوهیږی (۱٤) تیار کړے دے اللّٰه تعالیٰ دوی لره عذاب سخت یقیناً دوی

رفعت په نیزدَ اللّٰه تعالیٰ په ایمان اوپه علم سره دے نه په سبقیت دَ مجالسوسره۔ دویمه توجیه داچه پورته کوی اللّٰه تعالیٰ هغه کسان چه ایمان ئیے راوړے وی اوعالمان هم وی په ډیرو درجاتوسره۔ قرطبی لیکلی دی چه مراد دَ اوتواالعلم نه علماء دَ قرآن دی۔

[۱۲] دا دریم قانون اوادب دَ نجویٰ کولودے اومقصد په دے کښ تخفیف وؤپه نبیﷺ باندے او ښکاره کول وودَ اخلاص دَ مناجات کوؤنکو۔ وجه داوه چه منافقینو خلقو به ے ضرورته دَ نبیﷺ سره جرګے کولے او دَ هغه وخت به ئیے ضائع کولو اونورو مسلمانانوله به ئیے دَ نجویٰ کولووخت نه ورکوؤنودا قانون اللّٰه تعالیٰ مقرر کړو چه څوك دَ نبیﷺ سره نجویٰ کول غواړی نو وړاندے به صدقه اوکړی دَپاره دَ دے چه اخلاص ئیے معلوم شی او دا حکم مختص وؤپه نجویٰ دَ نبیﷺ پورے ﴿فَاِنْ لَّمْ تَجِدُوْا﴾ مراد دَ دینه عدم طاقت مالیه دے یعنی مسکین اوفقیرباندے داصدقه واجب نه ده۔

[۱۳] ﴿ءَاَشْفَقْتُمْ﴾ خطاب عام دے مؤمنانواومنافقانوته۔ منافقان اوړیدل دَ صدقے ورکولونه په سبب دَ بُخل سره۔ او مؤمنان اویریدل دَ دوام دَ دے حکم نه یعنی دوی اُوئیل که چرے دا حکم همیشه پاتے شی او مونږخو فقراء یوهر وخت دَ صدقے طاقت نه لرونودَ نبیﷺ سره به دَنجویٰ کولونه محرومه پاتے شو ﴿فَاِذْ لَمْ تَفْعَلُوْا﴾ منافقانوپه دے باندے عمل اونکړودَ وجے دَ نفاق نه۔ لیکن مؤمنانوعمل اونکړودَ دے وجے نه چه فرصت دَ صدقے ورکولو ورته ملاؤنه شو ځکه چه حکم کښ تبدیلی ډیرزر راغله ﴿وَتَابَ اللّٰهُ عَلَيْكُمْ﴾ دلته توبه په معنیٰ دَ تخفیف سره ده لکه سورة مزمل(۲۰)کښ هم توبه په معنیٰ دَ تخفیف ده ځکه دلته دَګناه صدورنه دے ثابت شوے ﴿فَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ﴾ یعنی که چرے په مستحباتوباندے عمل نه شئے کولے نوپرواه نیشته خوفرائضوباندے همیشه عمل جاری ساتئ اوپه هغے کښ نسخ یا تخفیف نه راځی۔

[۱٤] دَ دے ایت نه تر اخره پورے دویم باب دے په دے کښ زجرونه دی منافقینومفسدینوته اودَ هغوی پنځلس قبائح ذکرکوی اوتخویف ورکوی په (۱۵) او(۱۷)کښ اوپه اخرکښ صفت دَ مؤمنانودے په

سَآءَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۵﴾ اِتَّخَذُوْٓا اَيْمَانَهُمْ جُنَّةً فَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَلَهُمْ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ﴿۱۶﴾ لَنْ تُغْنِيَ
عَنْهُمْ اَمْوَالُهُمْ وَلَآ اَوْلَادُهُمْ مِّنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا ؕ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۱۷﴾ يَوْمَ يَبْعَثُهُمُ
اللّٰهُ جَمِيْعًا فَيَحْلِفُوْنَ لَهٗ كَمَا يَحْلِفُوْنَ لَكُمْ وَ يَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ عَلٰى شَيْءٍ ؕ اَلَآ اِنَّهُمْ هُمُ الْكٰذِبُوْنَ ﴿۱۸﴾
اِسْتَحْوَذَ عَلَيْهِمُ الشَّيْطٰنُ فَاَنْسٰىهُمْ ذِكْرَ اللّٰهِ ؕ اُولٰٓئِكَ حِزْبُ الشَّيْطٰنِ ؕ اَلَآ اِنَّ حِزْبَ الشَّيْطٰنِ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿۱۹﴾ اِنَّ

ناکاره دی هغه عملونه چه دوی کوی (۱۵) جوړکړی دی دوی قسمونوخپل ډال نو بند شول(یا بندول کوی) دَ لارے دَ اللّٰه تعالیٰ نه نو دوی لره عذاب رسوا کوؤنکے دے (۱۶) هیڅرے به دفع نه کړی دَ دوی نه مالونه دَ دوی او نه اولاد دَ دوی دَ (عذاب) دَ اللّٰه تعالیٰ نه هیڅ څیز دغه کسان اور والا دی دوی به په هغے کښ همیشه وی (۱۷) په کومه ورځ چه راپورته به کړی اللّٰه تعالیٰ دے ټولو لره نو قسمونه به کوی دوی هغه ته لکه چه قسمونه کوی تاسو ته او ګمان کوی دوی چه یقیناً دوی په څیز (فائده مند) باندے دی خبر شئے یقیناً دوی دروغژن دی (۱۸) غلبه کړیده په دوی باندے شیطان نو هیرئیے کړو دَ دوی نه ذکر دَ اللّٰه تعالیٰ دَغه کسان ډله دَ شیطان ده خبر شئے یقیناً ډله دَ شیطان دوی تاوان والا دی (۱۹) یقیناً

ذکرد برائت دَ هغوی دَمحادینو مفسدینونه اوبشارت دے مؤمنانوته ﴿وَيَحْلِفُوْنَ عَلَى الْكَذِبِ﴾ په دعویٰ دَ ایمان اواسلام کښ اوشهادت دَرسالت دَ دے رسول کښ دروغژن وی اوحال دا چه قسمونه هم کوی په صیغه دَمضارع کښ تجدّد ته اشاره ده اولفظ دَعلی کښ جرئت او زړه ورتیاته اشاره ده یعنی مجتَرِئِینَ عَلَى الْكَذِبِ (زړه ورتیا کوؤنکی دی په دروغو او په قسم کولو کښ)۔

[۱۵] دَ دے ایت په اوله جمله کښ تخویف دے اودویمه جمله کښ بل قباحت دَ دوی ذکرکوی چه هغه علت دَعذاب دے۔

[۱۶] دا جمله په جواب دَ سوال کښ ده چه که څوك اوائي چه دوی سره دَ پوهے ولے په دروغه قسم کوی نوجواب ورکوی۔ اودارنګ دا جمله تفصیل دَ سَآءَ مَا كَانُوا يَعْمَلُوْنَ، دے او پدیکښ دَ دوی دوه قباحتونه نورذکرکړیدی اوپه آخری جمله کښ تخویف دے۔ اوهرکله چه دوی په دروغه قسم کښ توهین کوی دَ نوم دَ اللّٰه تعالیٰ اودارنګ دَ مؤمنانو اهانت کوی دَ دے وجے نه عذاب مهین ئیے ذکرکړو۔

[۱۷] دا تخویف اُخروی دے په ذکر دَدوه قباحاتو دَد وی سره۔ او رد دے په زعم دَ هغه چا باندے چه په مالونواواولاد سره لوئي اوتکبرکوی ﴿اَمْوَالُهُمْ﴾ په فدیه ورکولو او په رشوت ورکولو سره فائده نه ورکوی ﴿وَلَآ اَوْلَادُهُمْ﴾ لفظ دَ لآئے دَ تاکید دَ نفی دَپاره مکرر راوړے دے۔ اولاد په مدد کولواودارنګ په دُنیاکښ په دُعاګانوغوختلواوپه نیك عملونوسره مور اوپلار (مشرکانو) ته فائده نشی ورکولے۔

[۱۸] په دے کښ دَ دوی درے قباحات ذکرکوی ﴿كَمَا يَحْلِفُوْنَ لَكُمْ﴾ یعنی دوی په دنیاکښ په دروغ قسمونو باندے عادت وؤ۔ابن کثیر وئیلی دی چه چا په کوم عمل باندے ژوند تیرکړے وی نوپه هغے باندے مړکیږی اوپه هغے باندے بیا ژوندے کیږی۔

[۱۹] په دے ایت کښ نوردرے قبائح دَ دوی ذکردی ﴿اِسْتَحْوَذَ﴾ دَ حوذ نه ماخوذ دے په معنیٰ دَ

اَلَّذِيْنَ يُحَآدُّوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗٓ اُولٰٓئِكَ فِي الْاَذَلِّيْنَ ﴿۲۰﴾ كَتَبَ اللّٰهُ لَاَغْلِبَنَّ اَنَا وَرُسُلِيْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ قَوِيٌّ عَزِيْزٌ ﴿۲۱﴾
لَا تَجِدُ قَوْمًا يُّؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ يُوَآدُّوْنَ مَنْ حَآدَّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَلَوْ كَانُوْٓا اٰبَآءَهُمْ اَوْ اَبْنَآءَهُمْ اَوْ
اِخْوَانَهُمْ اَوْ عَشِيْرَتَهُمْ ؕ اُولٰٓئِكَ كَتَبَ فِيْ قُلُوْبِهِمُ الْاِيْمَانَ وَاَيَّدَهُمْ بِرُوْحٍ مِّنْهُ ؕ وَيُدْخِلُهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ
تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ ؕ اُولٰٓئِكَ حِزْبُ اللّٰهِ ؕ اَلَآ اِنَّ حِزْبَ اللّٰهِ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿۲۲﴾ ع ۳

هغه کسان چه خلاف کوی دَ حدود دَ اللّٰه تعالیٰ او دَ رسول دَ هغه نه دغه کسان په ډیرو ذلیلانو کښ دی (۲۰) لیکلے دی اللّٰه تعالیٰ (په تقدیر کښ) چه ضرور غالب کیږم به ځه او رسولان زما یقیناً اللّٰه تعالیٰ قوت والا زوراور دے (۲۱) اوبه نه مومے ته داسے قوم چه ایمان لری په اللّٰه تعالیٰ او په ورځ روستنے چه دوستانه کوی دَ هغه چا سره چه خلاف ئے کړیدے دَ حدود دَ اللّٰه تعالیٰ اودَ رسول دَ هغه نه اګر چه هغوی وی دَ دوی پلاران یا دَ دوی ځامن یا دَ دوی رونړه یا دَ دوی قبیله دغه کسان لیکلے دے (پوخ) په زړونو دَ دوی کښ ایمان اوکلك کړی دی دوی په روح سره دَ هغه دَ طرف نه او داخله وی دوی لره جنتونو ته چه بهیږی لاندے دَ هغے نه ولے همیشه به وی دوی په هغے کښ رضا دے اللّٰه تعالیٰ دَ دوی نه اودوی رضا دی دَ هغه نه دغه کسان ډله دَ اللّٰه تعالیٰ ده خبر شئے یقیناً ډله دَ اللّٰه تعالیٰ خاص دوی کامیاب دی (۲۲)

راګیرولو، اوپه تیزئے او اسانتیا سره شړلوته وئیلے کیږی اودا مستلزم دے غلبے اوقوت لره یعنی شیطانانوپه دوی باندے داسے قوت اوغلبه په وسوسے کولواوګمراه کولوسره موندلے ده لکه چه هغه دَ دوی بادشاه دے اودوی ئے رعیّت دی ﴿فَاَنْسٰهُمْ ذِكْرَ اللّٰهِ﴾ اوامراونواهی دَ اللّٰه تعالیٰ اوقرآن کریم اوتوحید ټولوته دا لفظ شامل دے ﴿حِزْبَ الشَّيْطٰنِ﴾ حزب هغه تابعداری کوؤنکی ته وئیلے کیږی چه اتباع دَمتبوع کښ کلك اوتعصب کوؤنکی وی بل طرف ته په اسانه سره نه اوړی اونه دَ بل چاخبره اوری۔

[۲۰] په دے ایت کښ سخت زجردے محادّه کوؤنکوته عموماً (که په هرزمانه کښ وی) اوپه (۵) کښ زجروو محادّه کوؤنکودَ دے امت ته دَ دے وجے نه په هغه ایت کښ دَ هغوی تشبیه ئے دَ مخکنو سره ورکړے وه دا یو فرق دے دَ دواړه ایاتونو دویم فرق دا دے چه هلته کښ دَعاءِ شر (خیرے وے) وه او په دے ایت کښ خبر اوحکم کول دی دَ دوی په ذلّت سره۔

[۲۱] روستودَ تخویف نه بشارت دے ایمان والوته په غلبه اونصرت الٰهیه سره کَتَبَ مراد دَ دے نه لیکل دی په کتاب دَ تقدیرکښ اوپه هغے کښ هیڅ قسم تبدیلی نه راځی ﴿وَرُسُلِيْ﴾ یعنی هغه رسولان چه جنګ کوی دَ دُشمنانو سره نوغالب به وی په جنګ کښ په اعتباردَعاقبت سره اوپه حجت کښ به خوټول غالب وی اوداسے په سورة صافات(۱۸۲) کښ ذکرشویدی۔

[۲۲] هرکله چه په سورة کښ دَ محادینومفسدینواوصاف ذکرکړے شول نو په دے ایت کښ ترغیب ورکوی مؤمنانوته په برائت کولوسره دَ هغوی نه په ډیرتاکید سره ﴿لَا تَجِدُ قَوْمًا﴾ یعنی دَ ایمان والواودَ دوستانے کولودَ دُشمنانودَ اللّٰه تعالیٰ او دَرسول سره په مینځ کښ جمع نشی کیدلے اودَ نه موندلونه مراد نه کول دَ دے دی په طریقه دَمبالغے سره ﴿وَلَوْ كَانُوْٓا اٰبَآءَهُمْ﴾ یعنی دَ هیڅ نسب اوقرابت لحاظ نه کوی په

سُوْرَةُ الحَشْر (۵۹) مَدَنِيَّةٌ (۱۰۱)
بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
اٰيَاتُهَا ۲۴ رُكُوْعَاتُهَا ۳

(بقیه تفسیر دَ سورة المجادلة) باره دَ برائت کولو کښ دَ محادّینونه۔ اوپه دے کښ اشاره ده چه په داسے حالت کښ دَصِله رحمئی ساتلو حکم نیشته دے ﴿اُولٰٓئِكَ كَتَبَ فِيْ قُلُوْبِهِمُ الْاِيْمَانَ﴾ اشاره ده یقین کامل ته چه هغه په محبت دَغیراللّٰه سره نه محوکیږی لکه چه پوخ خط لیکلے شوے په اوبو وغیره سره نه ورانیږی ﴿وَاَيَّدَهُمْ بِرُوْحٍ مِّنْهُ﴾ مراد دَ روح نه قرآن کریم اوعلم دَ قرآن دے په روایت دَ ربیع سره۔ نواشاره ده چه تقویت دَ ایمان په قرآن کریم سره رائی ﴿رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ﴾ اشاره ده چه دوی دَ اللّٰه تعالیٰ دَ وجے نه ناراض ووُ دَ مخلوق نه نو دَ هغے په عوض کښ دوی ته رضا ملاؤشوه ﴿اُولٰٓئِكَ حِزْبُ اللّٰهِ﴾ دائیے په مقابل دَحزب الشیطان کښ ذکرکړے دے اشاره ده چه دِله دَاللّٰه یا دَانسان سره کول هغے ته وئیلے کیږی چه دَ دوست دَ رضاکولودَ وجے نه خپل خپلوان اوخپل دوستان پریګدی اودَهغوی سره هیڅ محبت اونصرت نه کوی۔

فائده: قرطبی دَ امام مالك نه نقل کړیدی چه دا ایت دلیل دے چه دَ منکرینودَ تقدیر سره دوستانه لرل او دَ هغوی په مجلس کښ شرکت کول منع دی اودا رنګ دا حکم دَ ټولو ظالمانواوبدعتیانودے اوشریبنی ذکرکړیدی چه چامیلان اوکړو هغه چاته چه دَ دین نه منحرف وی یا ئے مداهنت اوکړو دَ عقیدے دَ بدعتی سره نواللّٰه تعالیٰ نُور دَ توحید لره دَ هغه دَ زړه نه اوباسی۔

سورة حشر

اودَ دے بل نوم سورة بنی نضیر دے۔

ربط: دَ دے دَ مخکښ سورة سره په ډیرو وجوهو سره دے اوله وجه دا ده چه په سورة مجادله کښ زجرونه وو مفسدینو ته اوپه دے سورة کښ تخویف دُنیوی دے۔ دویمه وجه دا ده چه په هغه سورة کښ ئے محادّین ذکرکړی وونوپه دے سورة کښ مشاقین ذکرکوی۔

دعویٰ دَ سورة: تخویف دُنیوی مشاقینودَ اللّٰه تعالیٰ اودَ رسول اللّٰهﷺ ته په تمثیل دَبنی نضیرسره په (٤) کښ اوذکرد توحید دے دَپاره دَ امن دَ عذاب نه په ذکرد دویشت اسماء حسنیٰ دَ اللّٰه تعالیٰ سره په اول او اخر دَ سورة کښ۔

خلاصه دَ سورة: داسورة تقسیم دے دوه بابونوته اول باب تر(۱۱)پورے دے پدیکښ دعویٰ دَ توحید ده په ذکرد تسبیح دَپاره دَ دفع کولو دَ وهم یعنی که څوك اعتراض اوکړی چه بنی نضیروته عذاب ورکول په اخراج سره ظلم دے نو جواب اوکړے شو چه اللّٰه تعالیٰ دَ ظلم کولونه پاك دے هغه چه څه کوی نو دَ خپل عزت دَ حاصلولو دَپاره نه کوی هغه خو عزیز دے اوبے فائدے هم نه کوی هغه حکیم دے بیا ذکردَعذاب دَ بنی نضیرودے په (۲) کښ بیا تخویف اخروی ذکردے په (۳) کښ بیا سبب دَ دے عذاب ذکرکوی په (٤) کښ او دا دعویٰ دَ سورة ده بیا جواب دَ یو سوال دے په (٥) کښ بیا حکم دَ مالِ فئی دے او دَ هغے مصارف درے قسمونه ذکرکوی تر(۱۰)پورے۔

سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۚ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ① هُوَ الَّذِيْٓ اَخْرَجَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ
اَهْلِ الْكِتٰبِ مِنْ دِيَارِهِمْ لِاَوَّلِ الْحَشْرِ ۭ مَا ظَنَنْتُمْ اَنْ يَّخْرُجُوْا وَظَنُّوْٓا اَنَّهُمْ مَّانِعَتُهُمْ حُصُوْنُهُمْ مِّنَ اللّٰهِ
فَاَتٰىهُمُ اللّٰهُ مِنْ حَيْثُ لَمْ يَحْتَسِبُوْا ۤ وَقَذَفَ فِيْ قُلُوْبِهِمُ الرُّعْبَ يُخْرِبُوْنَ بُيُوْتَهُمْ بِاَيْدِيْهِمْ وَاَيْدِي الْمُؤْمِنِيْنَ ۤ
فَاعْتَبِرُوْا يٰٓاُولِي الْاَبْصَارِ ② وَلَوْلَآ اَنْ كَتَبَ اللّٰهُ عَلَيْهِمُ الْجَلَاۗءَ لَعَذَّبَهُمْ فِي الدُّنْيَا ۭ وَلَهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ عَذَابُ

پاکی وائي اللّٰه تعالیٰ لره هغه څیزونه چه په اسمانونو کښ دی او هغه څیزونه چه په زمکه کښ دی او خاص هغه دے زوراور حکمتونو والا (۱) خاص هغه داسے ذات دے چه اویستل ئے کافران دَ کتابیانو دَ کورونو دَ هغوی نه په اول راغونډولو سره ګمان نه کوؤتاسو چه دوی به اوځی او دوی ګمان کوؤ چه یقیناً بچ کوؤنکی دی دوی لره قلعه ګانے دَ دوی دَ اللّٰه تعالیٰ نه نو راغے دوی ته اللّٰه دَ داسے ځائے نه چه دوی ګمان نه کوؤ او واچوله ئے دَ دوی په زړونو کښ ویره ورانول دوی کورونه خپل په لاسونو خپلو او په لاسونو دَ مؤمنانو نو عبرت واخلئے اے دَ پوهے خاوندانو (۲) او که چرے نوے لیکلے اللّٰه تعالیٰ (په تقدیر کښ) په دوی باندے دَ وطن نه شړل نو بل عذاب به ئے دوی ته ورکړے وے په دنیا کښ او دوی لره په اخرت کښ عذاب

تفسیر

[۱] دادعویٰ دَ توحید ده په ذکر دَ تسبیح سره مخکښ دَ واقعے دَ بنی نضیرو نه دَپاره دَ جواب دَ اعتراض کوم چه مونږ په خلاصه کښ ذکرکړے دے ۔

[۲] تفسیر ابن کثیر کښ دَ بنی نضیرو تفصیلی واقعه ذکرکړے ده۔ حاصل ئے دادے چه دوی دَ نبیﷺ سره اول عهدکړے وؤچه مونږ به یوبل سره جنګ نه کوؤ اونه به دَ یوبل دَ دُشمن سره ملګرتیا کوؤ لیکن دَ اُحد دَ غزوه نه روستو دوی دَ مشرکین مکه سره دَ ملګرتیا وعده اوکړه او دَ نبیﷺ دَ وژلو اراده ئے اوکړه نو نبیﷺ اول کعب بن اشرف دَ محمد بن مسلمةؓ په ذریعه قتل کړو او بیائے سرهٔ دَ صحابه کرامونه دَ بنی نضیرو دَ قلعے نه یو ویشت یا شپږویشت ورځے محاصره اوکړه نو دوی دَ صلح کولو مطالبه اوکړه نونبیﷺ دَ صلح کولونه انکار اوکړو اوامرئے اوکړو دَ دوی په جلاوطن کولو سره او اجازت ئے ورکړو چه په اوښ باندے چه څومره سامان څوك اوړلے شی نو هغه ته اجازت دے دَ اوړلو، نوهغوی خپلے کوټے په خپل لاسونو سره اونړولے اومؤمنانونه ئے پدیکښ مدد طلب کړو اولرګی وغیره ئے په اوښانو باندے بارکړل او اکثر کسان دَ دوی په شام کښ اذرعات او اریحا مقام ته لاړل او دوه کورنئی دَ دوی (ال دَ بنی حقیق او ال دَ حی بنی اخطب) خیبرته لاړل اوځوك حیره مقام ته لاړل او دَ هغوی باقی منقول اوغیرمنقول جائیداد نبیﷺ ته په مال فئ کښ پاتے شو او منافقانو دَ مدینے دَ هغوی سره دَ مددکولو لوظ کړے وؤ لیکن هرکله چه هغوی دَ مدینے نه اوشړلے شول نو منافقانو ورسره هیڅ امداد اونکړو او مؤمنانوته دَ هغوی منافقت هم ښکاره شو ﴿لِاَوَّلِ الْحَشْرِ﴾ دَ دوی ځلور حشرونه وؤ یوحشر دَ مدینے نه خیبرته دویم حشر په زمانه دَ عمرؓ کښ دَ خیبر نه شام ته۔دریم حشر په نزدے دَ قیامت کښ په واسطه دَ اُور سره (یا به حقیقةً اور وی یا مراد ترینه فتنه ده) چه هغه په علاماتو دَ قیامت کښ

النَّارِ ﴿۳﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ شَآقُّوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ۚ وَمَنْ يُّشَآقِّ اللّٰهَ فَاِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿۴﴾ مَا قَطَعْتُمْ
مِّنْ لِّيْنَةٍ اَوْ تَرَكْتُمُوْهَا قَآئِمَةً عَلٰٓى اُصُوْلِهَا فَبِاِذْنِ اللّٰهِ وَلِيُخْزِيَ الْفٰسِقِيْنَ ﴿۵﴾ وَمَآ اَفَآءَ اللّٰهُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ
مِنْهُمْ فَمَآ اَوْجَفْتُمْ عَلَيْهِ مِنْ خَيْلٍ وَّلَا رِكَابٍ وَّلٰكِنَّ اللّٰهَ يُسَلِّطُ رُسُلَهٗ عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ ۭ وَاللّٰهُ عَلٰى

دَ اور دے (۳) دا پدے وجه سره چه دوی خلاف کړے دے دَ اللّٰه تعالیٰ او دَ رسول دَ هغه او چا چه خلاف اوکړو دَ اللّٰه تعالیٰ نو یقیناً اللّٰه تعالیٰ سخت عذاب ورکوؤنکے دے (٤) هغه چه تاسو پرے کړی دی څه اونے دَ کجورو یا پریخودلی دی تاسو هغه اولاړے په ویخونو خپلو باندے نو دا په حکم دَ اللّٰه تعالیٰ سره د ی او دَ دے دپاره چه شرمنده کړی پوره نافرمانو لره (٥) او هغه مالونه چه واپس کړیدی اللّٰه تعالیٰ په رسول خپل باندے دَ دوی نه نونه دی زغلولی تاسو په هغے باندے هیڅ اسونه او نه اوښان او لیکن اللّٰه تعالیٰ زوراور کوی رسولان خپل په هغه چا باندے چه اوغواړی او اللّٰه تعالیٰ په

ذکر شویده۔ څلورم حشر په ورځ دَ قیامت کښ دے نومعلومه شوه چه په دے واقعه کښ اول حشرمراد دے ﴿حُصُوْنُهُمْ﴾ جمع دَ حصن ده او دَ دوی څلور قلعه ګانے مشهورے وے وطیح، نطاة، سُلالم، کُتیبه۔ ﴿فَاَتٰىهُمُ اللّٰهُ﴾ اتیان(راتلل) دَ صفاتو دَ اللّٰه تعالیٰ نه دے بغیر دَ تاویل او تشبیه نه لکه په سورة بقره (۲۱۰) کښ دی ﴿مِنْ حَيْثُ لَمْ يَحْتَسِبُوْا﴾ دَ دوی ګمان وؤ چه منافقان به زمونږ امداد کوی اومؤمنان مونږ سره مقابله نشی کولے او قلعه ګانے زمونږ مضبوطے دی نودَ دے ګمانونونه خلاف کار اوشو ﴿يُخْرِبُوْنَ﴾ دا تخریب دَ دے دَپاره وؤ چه کوم لرګی او دروازے چه دَ دوی خوښے وے نوځان سره ئے اوړلے په اجازت دَ نبی ﷺ سره او دارنګ دَ دے دَپاره ئے هم تخریب اوکړه چه په دے کښ بیا مؤمنان اونه اوسیږی ﴿وَاَيْدِي الْمُؤْمِنِيْنَ﴾ یعنی دَ دوی نه چه کوم دیوالونه اوچتونه وغیره پاتے وؤ هغه به دَ دوی په وړاندے مؤمنانو نړول دے دَپاره چه دوی ښه غصّه اوذلیل شی ﴿فَاعْتَبِرُوْا يٰٓاُولِي الْاَبْصَارِ﴾ دلته یو عبرت دادے چه که یوانسان یا قوم علم والا وی اومالدارهم وی اوښګلے اوقلعه ګانے ئے هم وی لیکن چه دَ اللّٰه تعالیٰ او دَ رسول اللّٰه ﷺ دَ دین خلاف کوی نودَ عذاب دَ دنیا اوذلت نه نشی بچ کیدلے۔دویم عبرت دا دے چه دَ منافقانو او کافرانو په ملګرتیا اوپه وعدوباندے اعتماد پکار نه دے دریم عبرت دا دے چه په خپل دُنیوی قوّت او مالدارئے باندے هم غرور جائز نه دے۔

[۳] پدے ایت کښ تاکید دے په تخویف دُنیوی سره او تخویف اخروی هم دے ﴿وَلَوْلَآ اَنْ كَتَبَ اللّٰهُ عَلَيْهِمُ﴾ یعنی دا عذاب دُنیوی په اجلاء پورے خاص نه دے نورے ډیرے نمونے دَ دُنیوی عذابونو په مخکنو قومونو کښ تیرشویدی لیکن پدے قوم باندے خودَ جلا وطنئ تقدیر کړے شویؤو ﴿لَعَذَّبَهُمْ﴾ یعنی دَ دغے نه علاوه بل عذاب ورکول په دنیاکښ لکه قتل او قیدکول پشان دَ مشرکین بدر یا طوفانونه، سیلئی، قحطونه وغیره۔

[٤] دا سبب دَ عذاب دے او دعویٰ دَ سورة ده۔ او (مشاقّه) دَ شق نه ماخوذ دے چودل او دوه ټکړے کیدلو ته وائي او دا په ښکاره مخالفت کولوکښ استعمالیږی او داسے په سورة انفال(۱۳) کښ هم تیر شویدی۔

[٥] دا جواب دَ سوال دے هغه داچه تاسو دَ فساد نه منع کوئے اوحال دا دے چه تاسو(اے صحابو) دَ بنی نضیر دَ کجورو اونے او سبزلے اوپرے موکړلے نو داهم فساد دے؟ حاصل دَ جواب دا دے چه دا په حکم دَ

كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝٦ مَآ اَفَآءَ اللّٰهُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ مِنْ اَهْلِ الْقُرٰى فَلِلّٰهِ وَلِلرَّسُوْلِ وَلِذِي الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى
وَالْمَسٰكِيْنِ وَابْنِ السَّبِيْلِ ۙ كَيْ لَا يَكُوْنَ دُوْلَةً بَيْنَ الْاَغْنِيَآءِ مِنْكُمْ ۭ وَمَآ اٰتٰىكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ ۠ وَمَا
نَهٰىكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ۝٧ لِلْفُقَرَآءِ الْمُهٰجِرِيْنَ الَّذِيْنَ اُخْرِجُوْا
مِنْ دِيَارِهِمْ وَاَمْوَالِهِمْ يَبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانًا وَّيَنْصُرُوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ۭ اُولٰۗىِٕكَ هُمُ

هر څیز باندے قدرت والادے (٦) هغه چه واپس کړے وی اللّٰه تعالیٰ خپل رسول ته دَ کلو والو نه، نو خاص دَ اللّٰه تعالیٰ دپاره دی او دَ رسول(ﷺ) دپاره او دَ خپلوانو دَ هغه دپاره اودَ یتیمانو او مسکینانو او مسافرو دپاره دی دَ دے دپاره چه نه وی ادل بدل کیدونکی په مینځ دَ مالدارو کښ ستاسو نه او هغه څیز چه درکړیدے رسول(ﷺ) نو اونیسئے هغه او هغه څیز چه منع کړی ئیے تاسو دَ هغے نه نو منع شئے او ویره کوئے دَ اللّٰه تعالیٰ نه یقیناً اللّٰه تعالیٰ سخت عذاب ورکوؤنکے دے (٧) (دا مالونه) دپاره دَ فقیرانو مهاجرینو دی هغه کسان چه ویستلے شوی دی دکورونو خپلو او مالونو خپلونه لټوی دوی فضل دَ اللّٰه تعالیٰ او رضا دَ هغه او مدد کوی دوی دَ اللّٰه تعالیٰ او دَ رسول دَ هغه د غه کسان دوی

اللّٰه تعالیٰ سره شویدی او نورے فائدے پکښ هم دی نو دا شرعاً جائزدی۔

[٦] هرکله چه دَ بنی نضیرونه پاتے شوی مالونه فئ وؤ نو په دے ایت کښ دَ هغے او دَ مال غنیمت په مینځ کښ فرق ذکرکوی ﴿فَمَآ اَوْجَفْتُمْ﴾ نوکوم مال چه دَ کافرانونه بغیر دَ جنګ نه حاصل شی نو هغه مالِ فئ وی لکه مالونه دَ بنی نضیر دارنګ چه دَ کافرانونه جزیه او اخراج حاصل شی یا دَ هغوی نه څه مال بے وارثه پاتے شی نو دیته هم مالِ فئ وئیلے کیږی او کوم مال چه دَکافرانونه په جنګ سره حاصل شی نو هغے ته مالِ غنیمت وئیلے کیږی دَ هغے تقسیم ئیے سورة انفال(٤١) کښ ذکرکړیدے۔

[٧] په دے ایت کښ مصارف دَمالِ فئ ذکرکوی روستودَ ذکردَ غیرمستحقینونه او رد دے په طریقه دَجاهلیت باندے ﴿مِنْ اَهْلِ الْقُرٰى﴾ کلی دَ بنی نضیراوفدك اوبعضِ کلی دَ بنی قریظه اوخیبروغیره ﴿فَلِلّٰهِ﴾ مراد دَ دے نه اختیاراوتصرف دَ اللّٰه تعالیٰ دے اولام دَ تصرف مستقله دَپاره دے ﴿وَلِلرَّسُوْلِ﴾ دالام دَ استحقاق اودَ اختیاردَ تقسیم دَپاره دے یعنی رسول اللّٰه ﷺخپل خرچ اودَ اهل خرچه به دَ دے مال نه کوله او باقی به ئیے تقسیمولو﴿وَلِذِي الْقُرْبٰى﴾ دا لام صرف دَ استحقاق په طوردَمصرف سره دے اومراد دَ دوی نه مؤمنان دَ بنی هاشم اوبنی مطلب دی اګرچه اغنیاء وی﴿كَيْ لَا يَكُوْنَ دُوْلَةً بَيْنَ الْاَغْنِيَآءِ مِنْكُمْ﴾په دے جمله کښ رد دے په رسم دَجاهلیت باندے په باره دَمالِ فئ کښ څکه چه په جاهلیت کښ مالِ فئ اومالِ غَنیمت کښ به پوره څلورمه حصّه دَ رئیس دَ هغوی وه دَ دے وجے نه هغه ته به مرباع یا ربیع القوم وئیلے کیدلو اوباقی درے حصو کښ به هم دَ هغه اختیار وؤ که چاله به ئیے ورکولے اوکه نه ورکولے او اکثر به ئیے مالدارو کښ تقسیمولے ﴿وَمَآ اٰتٰىكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ﴾ دا لفظ عام دے ټولواوامرودَ قرآن اوسنت ته اومال فئ پکښ داخل دے اومَا اَمَرَکُم، ئیے نه دے وئیلے دَپاره دَ دے چه شامل شی هرهغه قول اوفعل او حال ته چه دَ صحیح حدیث نه ثابت وی نو کوم عمل چه نبی ﷺ همیشه دَپاره ترك کړے وی نو مونږ به هغه ترك کوؤ دغه حال هم په ما اتاکم کښ داخل دے۔

الصّٰدِقُوْنَ ۚ﴿٨﴾ وَالَّذِيْنَ تَبَوَّءُو الدَّارَ وَالْاِيْمَانَ مِنْ قَبْلِهِمْ يُحِبُّوْنَ مَنْ هَاجَرَ اِلَيْهِمْ وَلَا يَجِدُوْنَ
فِيْ صُدُوْرِهِمْ حَاجَةً مِّمَّآ اُوْتُوْا وَيُؤْثِرُوْنَ عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ ۭ وَمَنْ يُّوْقَ شُحَّ
نَفْسِهٖ فَاُولٰۗىِٕكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ۚ﴿٩﴾ وَالَّذِيْنَ جَاۗءُوْ مِنْۢ بَعْدِهِمْ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِاِخْوَانِنَا
الَّذِيْنَ سَبَقُوْنَا بِالْاِيْمَانِ وَلَا تَجْعَلْ فِيْ قُلُوْبِنَا غِلًّا لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا رَبَّنَآ اِنَّكَ رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ﴿١٠﴾ ع

رشتینی دی (٨) او هغه کسان چه اباد شویدی په کورونو کښ (او حاصل کړیدے) ایمان مخکښ دَ راتللو د مهاجرینو نه مینه کوی دَ هغه چا سره چه هجرت کوی دوی ته او دوی نه مومی په خپلوسینو کښ خفګان دَ هغه شیزنه چه ورکړے شی (مهاجرینو ته) او غوره کوی په خپلو ځانونو باندے (مهاجرینولره) اګر چه وی په دوی باندے لوږه او خوك چه بچ اوساتلے شو دَ حرص دَ نفس نه نو دغه کسان دوی کامیاب دی (٩) او هغه کسان چه راځی روستو دَ دوی نه دوی وائي اے ربه زمونږ بخنه اوکړے مونږ ته او رونړو زمونږ ته هغه چه مخکښ زمونږ نه ئیے حاصل کړے دے ایمان لره اومه اچوے په زړونو زمونږ کښ خفګان دَ هغه چانه چه ایمان ئیے راوړے دے اے ربه زمونږ یقیناً ته شفقت کوؤنکے رحم کوؤنکے ئیے (١٠)

[٨] پدیکښ اصل مستحقین دَ مال فئ ذکرکوی چه هغه درے قسمه دی اوعلت دَ استحقاق ته اشاره کوی اوصفات دَ مهاجرینو پنځه ذکرکوی ﴿وَيَنْصُرُوْنَ﴾ یعنی روستو دَ هجرت نه دعوت اوجهاد کول ئیے نه دی پریخودلی بلکه هغه جاری ساتی ﴿اُولٰۗىِٕكَ هُمُ الصّٰدِقُوْنَ﴾ معلومه شوه چه هجرت اونصرت دَ دین دَ اللّٰه تعالیٰ دلیل دَ صدق دَ ایمان دے۔

[٩] پدیکښ پنځه صفات دَ انصارو ذکرکوی او دوی لره هم حصّه ده په مال فئ کښ ﴿مِنْ قَبْلِهِمْ﴾ مراد دَ دے نه قَبْلَ هِجْرَتِهِمْ، دے یعنی دَ مهاجرینو مدینے ته دَ راتللونه وړاندے انصارو مدینه کښ سکونت کوؤ او اکثرو ایمان راوړے وؤ ځکه دَ دوی دوه وفدونو مکے کښ دَ نبی ﷺ سره بیعت دَ عقبے کړے وؤ او بیا دَ هغوی په دعوت سره اکثرو مدینے والو ایمان راوړے وؤ ﴿وَلَا يَجِدُوْنَ فِيْ صُدُوْرِهِمْ حَاجَةً﴾ مراد دَ (حاجة) نه حسد، بغض اوغش اوخفګان دے ﴿مِمَّآ اُوْتُوْا﴾ یعنی مهاجرینوته چه مال فئ او زکوٰة وغیره ډیر ورکړیشی اوعزت اومرتبه ورکړے شویده نوانصارپه هغے باندے هیڅ خفګان اوحسدنه کوی ﴿وَيُؤْثِرُوْنَ عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ﴾دا دلیل دَ محبت اوعدم حسد او دَ اخلاص دَ انصارو دے۔ خَصَاصَةٌ، نفس احتیاج او ضرورت او لوګے ته وئیلے کیږی یعنی دَ دوی ایثار دَ وجے دَ استغناء نه نه دے بلکه سرهٔ دَ احتیاج نه دَ محبت دَ وجے نه دے اودَ انصارو دَ احتیاج ډیرواقعات په احادیثو کښ راغلی دی او مفسّرینوئیے ډیرے قصّے لیکلی دی۔ ﴿وَمَنْ يُّوْقَ شُحَّ نَفْسِهٖ﴾ په دے کښ اشاره ده چه دا تیرشوی اوصاف دلیل دے چه انصارو کښ شح او بخل نه وؤ او دوی مستحق دَ فلاح دی۔ شح اوبخل کښ فرق دا دے چه بخل عام دے که طبیعت ګرځیدلے وی یا نه وی اوشح دا دے چه حرس دَ انسان طبیعت اوګرځی۔ ابن کثیر دَ امام احمد نه حدیث نقل کړیدے چه شح او ایمان په زړه دَ بنده کښ چرے نه جمع کیږی۔

[١٠] په دے کښ دریم قسم خلق ذکرکوی چه دَ هغوی په مال فئ کښ حق دے چه هغه تابعداری

اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ نَافَقُوْا يَقُوْلُوْنَ لِاِخْوَانِهِمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ لَئِنْ اُخْرِجْتُمْ لَنَخْرُجَنَّ مَعَكُمْ وَلَا نُطِيْعُ فِيْكُمْ اَحَدًا اَبَدًا ۙ وَّاِنْ قُوْتِلْتُمْ لَنَنْصُرَنَّكُمْ ؕ وَاللّٰهُ يَشْهَدُ اِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ⑪ لَئِنْ اُخْرِجُوْا لَا يَخْرُجُوْنَ مَعَهُمْ ۚ وَلَئِنْ قُوْتِلُوْا لَا يَنْصُرُوْنَهُمْ ۚ وَلَئِنْ نَّصَرُوْهُمْ لَيُوَلُّنَّ الْاَدْبَارَ ۫ ثُمَّ

ایا نه ګورے هغه کسانو ته چه منافقت ئے کړیدے وائي رونړو خپلو ته هغه کسان چه کفرئے کړیدے دَ کتابیانو نه که چرے اویستلے شوئے تاسو ضرور مونږ به اوځو تاسو سره او خبره نه منو مونږ ستاسو په باره کښ دَ هیڅا هیڅ چرے او که تاسو سره جنګ کیدے شی ضرور به مونږ ستاسو مددکوؤ او اللّٰه تعالیٰ ګواهی کوی چه یقیناً دوی دروغژن دی (۱۱) که چرے اویستلے شی هغوی نو دوی نه اوځی دَ هغوی سره او که چرے جنګ کیدیشی دَ دوی سره نو دوی مدد نه کوی دَ هغوی سره او که چرے دوی ورسره مدد اوکړی خامخا اوبه ګرځوی شاګانے بیا به

کوؤنکی او دُعا کوؤنکی دی صحابه کرامو(مهاجرینواوانصارو) ته ترقیامته پورے ﴿وَلِاِخْوَانِنَا الَّذِيْنَ سَبَقُوْنَا بِالْاِيْمَانِ﴾ مراد دَ اخوت نه ایمانی اخوت دے په دلیل دَ الَّذِين سبقونا بالایمان سره اودا لفظ شامل دے ټولومؤمنانوته عموماً چه دَ هر نبی په امت کښ وی او خصوصاً صحابه کرامو زمونږ دَ نبی ﷺ ته۔ ﴿غِلًّا﴾ طبعی خفګان ته وئیلے کیږی او دا ادنیٰ څیز دے په نسبت دَ حسد اوبغض سره نوزاله دَ ادنیٰ مستلزم ده ازالے دَ اعلیٰ لره ﴿لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا﴾ په دے کښ قید دَ سبقونانه دے ذکرکړے اشاره ده زیات عموم ته که تیرشوی مؤمنان وی او که موجوده وی ۔قرطبی وئیلی دی چه دا ایت دلیل دے چه محبت دَ صحابه کرامو سره واجب دے ځکه چه شرط دَ حق دَ فیٔ دَپاره ئے دَ هغوی استغفار اوعدم غِل ګرځولے دے نو څوک چه ټولوصحابویا یودَ هغوی ته بده وینا کوی یا ورسره بغض کوی نو هغه لره په مالِ فیٔ کښ حق نیشته۔ اودَ مصعب بن سعد ﷺ نه روایت دے چه خلق په درے قسمه دی (مهاجرین،انصار) دا دواړه خوتیرشویدی او دریم قسم (تابعون باحسان) دا اوس هم باقی دی نو ځان په دے قسم کښ داخل کړئے یعنی دَصحابه کرامو سره بغض مه کوئے اودَ هغوی تابعداری کوئے اوداسے قول دَ ابن ابی لیلیٰ نه هم نقل دے۔

[۱۱] دَ دے ایت نه دویم باب دے دَ اخر دَ سورۃ پورے په دے باب کښ دیارلس قبائح دَ منافقینو ذکر کوی دا هغه قبائح دی چه دَ اجلاء دَ بنی نضیروپه وخت کښ منافقانوکښ ښکاره شول۔ او دیکښ زجرونه دی منافقانوته اودَ دوی دَ قباحت ښکاره کولودپاره دوه مثالونه ذکرکوی۔ بیا امر دے مؤمنانوته په تقویٰ سره او تحذیر دے دَ مشابهت دَ منافقانو او کافرانو سره او بیان دَ فرق دَ دوی دے بیا ترغیب دے قرآن ته دَپاره دَ حصول دَ خشیت او اختتام دے په ذکردَ مسئلے دَ توحید سره په اسماء اوصفاتو دَ اللّٰه تعالیٰ او دا مقصد دَ خشیت دے ﴿نَافَقُوْا﴾ په دے کښ اشاره ده چه دا روستو اوصاف ټول دَ نفاق دَ وجے نه دی۔ ﴿لِاِخْوَانِهِمُ﴾ هغوی سره اخوت دَ اعتقاد اودَ دوستانے دَ وجے نه دے ﴿الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ﴾ مراد دَ دینه بنونضیردی ﴿لَكٰذِبُوْنَ﴾ کذب په دے وجے سره دے چه دوی دا وعده په ځُلے سره کوی او په زړه کښ ئے اراده دَ وفا نیشته یا دَ دے وجے نه چه دوی دا کارنشی کولے هسے وائي۔

لَا يُنْصَرُوْنَ ﴿١٢﴾ لَاَنْتُمْ اَشَدُّ رَهْبَةً فِيْ صُدُوْرِهِمْ مِّنَ اللّٰهِ ؕ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَفْقَهُوْنَ ﴿١٣﴾ لَا
يُقَاتِلُوْنَكُمْ جَمِيْعًا اِلَّا فِيْ قُرًى مُّحَصَّنَةٍ اَوْ مِنْ وَّرَآءِ جُدُرٍ ؕ بَاْسُهُمْ بَيْنَهُمْ شَدِيْدٌ ؕ تَحْسَبُهُمْ جَمِيْعًا
وَّقُلُوْبُهُمْ شَتّٰى ؕ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَعْقِلُوْنَ ﴿١٤﴾ كَمَثَلِ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ قَرِيْبًا ذَاقُوْا وَبَالَ
اَمْرِهِمْ ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۚ ﴿١٥﴾ كَمَثَلِ الشَّيْطٰنِ اِذْ قَالَ لِلْاِنْسَانِ اكْفُرْ ۚ فَلَمَّا كَفَرَ قَالَ اِنِّيْ بَرِيْٓءٌ مِّنْكَ
اِنِّيْٓ اَخَافُ اللّٰهَ رَبَّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٦﴾ فَكَانَ عَاقِبَتَهُمَآ اَنَّهُمَا فِي النَّارِ خَالِدَيْنِ فِيْهَا ؕ وَذٰلِكَ جَزٰٓؤُا
الظّٰلِمِيْنَ ﴿١٧﴾ ع يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَلْتَنْظُرْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ لِغَدٍ ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ ع ٣

دَ دوی سره امداد نشی کیدے (١٢) خامخا تاسو ډیر سخت رعب والا ئے په سینو دَ دوی کښ دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه دا په دے وجه چه دوی داسے قوم دے چه صحیح پوهه نه لری (١٣) جنګ نشی کولے دوی تاسو سره په یو ځائے مګر چه کلو قلعه بندو کښ وی یا شانه دَ دیوالونونه جنګ دَ دوی (ډوزے) په کورنئے دَ دوی کښ ډیر سخت دے ګمان کوئے تاسو په دوی باندے یو خلق اوحال دا چه زړونه دَ دوی دَ یو بل نه خلاف دی دا دَ دے وجے نه چه دوی داسے قوم دے چه عقل نه لری (١٤) (حال دَ دوی) پشان دَ حال دَ هغه کسانو دے چه دَ دوی نه مخکښ وؤ په نزدے زمانه کښ اوځکله هغوی سزا دَ کار خپل او دوی لره عذاب درد ناك دے (١٥) (حال دَ دوی) پشان دَ حال دَ شیطان دے کله چه اُوائي انسان ته کفر کوه نو هر کله چه هغه کفر اوکړی دے ورته اُوائي یقیناً ځه جدایم ستانه یقیناً ځه ویره کوؤم دَ اللّٰه تعالیٰ نه چه رب العالمین دے (١٦) نوشو عاقبت دَ دواړو چه یقیناً دوی به په اور کښ وی همیشه به وی په هغے کښ او دا سزا دَ ظالمانو ده (١٧) اے ایمان والو ویره کوئے دَ اللّٰه تعالیٰ نه او فکر دِ کوی هر نفس دَ هغه عمل چه لیږی ئے دَ صبا دپاره او ویره کوئے دَ اللّٰه تعالیٰ نه یقیناً اللّٰه تعالیٰ

[١٢] په دے کښ اثبات دَ کذب دَ دوی دے او دَ منافقانو ځلور حالات ذکر کوی۔

[١٣] دا علت دپاره دَ ماقبل اوپدیکښ دَ منافقانو دوه صفتونه ذکر کوی ﴿رَهْبَةً﴾ هغه سخته ویره ده چه سره دَ اضطراب او دَ غم نه وی ﴿لَايَفْقَهُوْنَ﴾ فقه دَ کلام په ظاهری مفهوم او دَ هغے په اشاراتو او حکمتونو باندے پوهیدل دی او دا دَعلم او معرفت اوفهم نه اوچته درجه ده۔

[١٤]دانتیجه دَ رهبت دَ دوی ده اوپه دے کښ دَ دوی ځلور قبائح ذکر کوی ﴿تَحْسَبُهُمْ جَمِيْعاً وَّقُلُوْبُهُمْ شَتّٰى﴾یعنی دَ مؤمنانو په مخالفت کښ متفق دی لیکن دَ دوی په عقیدو اوخواهشاتو او ارادو کښ ډیر تفاوت او اختلاف دے لیکن اختلاف دَ زړونو سره ظاهری اتحاد هیڅ فائده نه ورکوی لکه چه په نن زمانه کښ مختلف مسلکونووالا دَ یوبل سره اتحاد ظاهری اوکړی لیکن دَ هغے هیڅ صحیح نتیجه نه راؤځی۔

[١٥] دامثال دپاره دَ تخویف دنیوی دے منافقانوته ﴿وَبَالَ اَمْرِهِمْ﴾ امرنه مراد دَ دوی کفراو دَ حق سره دشمنی اودَ نبیﷺ سره لوظ ماتول دی ۔ وَبَالَ نه مراد قتل دَ کفار قریش دے په بدرکښ او ویستل دَ دوی دَ کورونونه بنی قینقاع لره۔

[١٦،١٧] دا دویم مثال دے لیکن عطف کړے نه دے په ماقبل باندے ځکه اول مثال دَ عذاب دنیوی دے او

خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۸﴾ وَلَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ نَسُوا اللّٰهَ فَاَنْسٰىهُمْ اَنْفُسَهُمْ ؕ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿۱۹﴾
لَا يَسْتَوِيْٓ اَصْحٰبُ النَّارِ وَاَصْحٰبُ الْجَنَّةِ ؕ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ هُمُ الْفَآئِزُوْنَ ﴿۲۰﴾ لَوْ اَنْزَلْنَا هٰذَا الْقُرْاٰنَ عَلٰى
جَبَلٍ لَّرَاَيْتَهٗ خَاشِعًا مُّتَصَدِّعًا مِّنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ ؕ وَتِلْكَ الْاَمْثَالُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ

خبر دار دے په هغه عملونو چه تاسو ئیے کوئے (۱۸) او مه کیږئے د هغه کسانو پشان چه هیر کړے دے اللّٰه تعالیٰ نو هیر کړل اللّٰه تعالیٰ د دوی نه نفسونه د دوی دغه کسان هم دوی پوره نافرمان دی (۱۹) نه دی برابر اور والا او جنت والا جنت والا خاص دوی مرادونه حاصلوؤنکی دی (کامیاب دی) (۲۰) که چرے مونږ نازل کړے وے دا قرآن په غرباندے ضرور تا به لیدلے وؤ هغه عاجزی کوؤنکے ټکړے کیدونکے د وجے د ویرے د اللّٰه تعالیٰ نه او دا مثالونه بیانوؤ مونږ دپاره د خلقو د دے دپاره

دا مثال د دهوکے د منافقانودے د یهودو(بنی نضیرو) سره یا داچه اول مثال د یهودیانو دے او دویم مثال د منافقانو دے نو دا دواړه مستقل مثالونه دی۔ مشبه به په دے کښ په قول د مجاهد سره هر انسان دے چه کفر او شرك او نفاق کوی په وسوسه د شیطان انسی یا جنّی سره اوهرکله چه انسان کفر کښ کلك شی نو شیطان ترینه برائت اوکړی په دے ویرے چه مالره د دهٔ په عذاب کښ شریك نه کړی لیکن دا برائت شیطان ته هیڅ فائده نه ورکوی بلکه د دواړو عاقبت به اور د جهنم وی ﴿اِنِّیْٓ اَخَافُ اللّٰهَ رَبَّ الْعٰلَمِیْنَ﴾ دے قول د شیطان کښ خوف ایمانی مراد نه دے بلکه خوف طبعی یا خوف په دروغ دعویٰ سره دے۔

[۱۸] روستو د بحث د منافقانونه خطاب کوی مؤمنانوته دے دپاره چه ځان بچ کړی د صفاتو د نفاق نه اوپدیکښ درے اوامر او یونهی ذکرکوی۔اول ﴿اتَّقُوا اللّٰهَ﴾ مراد د دے نه تقویٰ د ایمانیاتوده یعنی د هرقسم شرك اوکفرنه ځان ساتل دویم ﴿وَلْتَنْظُرْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ لِغَدٍ﴾ یعنی د ځان سره حساب کول او تمیز کول په مینځ د حق او باطل کښ۔لِغَدٍ، مراد ترینه ورځ د حساب ده۔ غد په محاوره د عرب کښ راتلونکی ورځ ته وئیلے کیږی نو اشاره ده چه دا ټول عمر د دنیا پشان د یوے ورځے دے اوصباله قیامت دے دریم ﴿وَاتَّقُوا اللّٰهَ﴾ مراد د دے نه تقویٰ د اعمالو ده یعنی د اوامرو پابندی کول او د نواهی نه ځان بچ کول۔

[۱۹] دا ځلورم خطاب دے۔ مراد د دے نه د مشابهت د کافرانو، منافقانو اومشرکانونه په هره طریقے سره ځان ساتل دی که مشابهت په عقیده کښ وی او که په عمل اوپه اخلاقو کښ او که په صورت کښ او که په سیرت کښ وی او که په غم او شادئے کښ اوپه لباس وغیره کښ لکه چه د تشبیه د دوی نه ئیے منع کړیده ﴿فَاَنْسٰىهُمْ اَنْفُسَهُمْ﴾ جزا د جنس د عمل نه وی د دے وجے نه دا تعبیر اوکړے شو مراد د دے نه دا دے چه اللّٰه تعالیٰ دوی له توفیق د نیك عمل نه ورکوی اوکه نیك عمل وی نو ورسره شرك بدعت او ریاء وغیره ګډ وی نو د دوی نفسونو ته به په قیامت کښ هیڅ نفع ورنکړی۔

[۲۰] دا علت د ماقبل دے یعنی مؤمنان د د مشابهت د کافرانونه ځان د دے وجے نه بچ کړی چه د دوی عاقبت کښ پوره فرق دے ﴿الْفَآئِزُوْنَ﴾ دا په مقابله د الخاسرون کښ استعمالیږی نو معلومه شوه چه په تیرشوی ایت کښ فسق چه سبب د خسران دے د خسران په ځائے ذکرشویدے۔

يَتَفَكَّرُوْنَ ﴿۲۱﴾ هُوَ اللّٰهُ الَّذِيْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ عٰلِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ ۚ هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِيْمُ ﴿۲۲﴾
هُوَ اللّٰهُ الَّذِيْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ اَلْمَلِكُ الْقُدُّوْسُ السَّلٰمُ الْمُؤْمِنُ الْمُهَيْمِنُ الْعَزِيْزُ الْجَبَّارُ الْمُتَكَبِّرُ ؕ

چه دوی فکر اوکړی (۲۱) خاص هغه اللّٰه تعالیٰ دے داسے ذات چه نیشته حقدار دَ بندګئ سیوا دَ هغه نه عالم دے په هر پټ او ښکاره باندے خاص هغه پوره مهربانی کوؤنکے خاص رحمت والا دے (۲۲) خاص هغه اللّٰه دے داسے ذات دے چه نیشته حقدار دَ بندګئ سیوا دَ هغه نه پوره بادشاه دے ډیر پاك دے بچ دے دَ هرنقصان نه امن ورکوؤنکے ساتنه کوؤنکے دے عزت والا دے زور کوؤنکے دے خاوند دَ لوئے دے

[۲۱] په دے ایت کښ درے توجیهات دی اول داچه عظمت دَ قرآن کریم ذکرکوی سرهٔ دَ زجرنه منکرینوته حاصل داچه که یو غرته اللّٰه تعالیٰ فهم او عقل دَ انسان پشان ورکړے وے او په قرآن کریم سره ئے مکلف کړے وے او قرآن ئے ورته اورولے وے نوهغه به دَ خشوع او خشیت دَ وجے نه ټکړے شویوے اګرچه دَ ډیرو سختو ګټونه ډك دے لیکن انسان اعراض کوؤنکے دومره سخت زړے دے چه په قرآن سره پدهٔ کښ اثر نه پیداکیږی۔ دویمه توجیه دا ده چه پدیکښ ثقل دَ قرآن او احسان په نبی ﷺ باندے ذکرکوی یعنی دَ قرآن کریم بوج او دروندوالے خو دومره دے چه غرونه دَ هغے برداشت نه شی کولے لیکن اللّٰه تعالیٰ خپل نبی ﷺ لره دومره قوّت ورکړے دے چه هغه دَ قرآن کریم دَ ثقل دَ نزول او دَ بوج دَ تبلیغ برداشت کوی۔ دریمه توجیه دا ده چه په دے کښ ثقل دَ قرآن کریم اوجواب سوال ذکرکوی سوال دَ مشرکینو او یهودیانو دا وؤ چه دا قرآن په یوځل پدے نبی باندے ولے نه نازلیږی؟ حاصل دَجواب دادے چه په یوځل (په جمع) دا قرآن په غرباندے نازل شی نوهم ئے برداشت نه شی کولے ځکه چه دَغرقوت دَ جسم ډیر زیات دے نو نبی ﷺ دَ هغے برداشت څه رنګ کولے شی؟ربط دَ ایت دَماقبل سره دا دے چه کافران یهود او منافقان وغیره دَ اصحاب النار دَ ډلے نه پدے قرآن سره وتلے شی پدے شرط چه پدے کښ فکر اوکړی او ایمان پرے راوړی او دَ قرآن په سبب اللّٰه تعالیٰ ته خشوع اوکړی او خشیت اوکړی۔

[۲۲] شربینی په باره دَ ربط کښ وئیلی دی چه عظمت دَ قرآن کریم ذکرشو او قرآن صفت دَ اللّٰه تعالیٰ دے نواوس عظمت دَ موصوف (چه اللّٰه تعالیٰ دے) ذکرکوی ځکه چه عظمت دَ صفت، دَ وجے دَ عظمت دَ موصوف نه دے ۔ دویم ربط دا دے چه خشیت اوخشوع په قرآن سره هله حاصلیږی چه دَ اللّٰه تعالیٰ اسماء حسنیٰ او صفاتِ عُلیا اوپیژنی او په دے درے ایاتونو کښ دَ اللّٰه تعالیٰ اسماء اوصفات ئے په حذف دَ تکرار سره شَل ذکرکړی دی ﴿اَلَّذِيْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ﴾ دا اول صفت دے او مقصود په دے کښ اثبات دَ الوهیت په طریقه دَ اختصاص سره دے دَپاره دَ اللّٰه تعالیٰ په هرځیز باندے ﴿عَالِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ﴾ دا دویم صفت دے۔

سُبْحٰنَ اللّٰهِ عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿۲۳﴾ هُوَ اللّٰهُ الْخَالِقُ الْبَارِئُ الْمُصَوِّرُ لَهُ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى ؕ يُسَبِّحُ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿۲۴﴾ ع

پاکی ده الله تعالی لره دَ هغے نه چه دوی ورسره شریك جوړوی (۲۳)خاص هغه الله تعالی دے پیداکوؤنکے دے جدا جداکوؤنکے شکلونه ورکوؤنکے دے خاص هغه لره نومونه دی خائسته پاکی وائي هغه لره هغه څیزونه چه په اسمانونو کښ دی اوزمکه کښ دی اوخاص هغه زوراوورحکمتونووالا دے (۲٤)

[۲۳] په دے کښ مقصد اثبات دَ الوهیت سرهٗ دَ اختصاص نه دَ الله تعالی دَپاره دے په دلیل دَ قدرت او تصرف دَ هغه سره په هرځیز کښ په هرجهت سره دَ دے وجے نه روستوصفتونه دَ تصرف ئیے ذکرکړیدی نو معلومه شوه چه دَ الوهیت دَ اثبات دَپاره دوه قسمه صفتونه ضروری دی صفت دَ علم بکل شی اوصفت دَ قدرت علی کل شئ او دا دواړه خلاصه ده دَ صفتونو دَ الله تعالیٰ ﴿السَّلَامُ﴾ سالم او بچ دے دَ عارض کیدلو دَهر نقصان او شیب نه په ذات او صفاتو کښ نو فرق دَ قدوس اوسلام دا دے چه ذاتی او اصلی نقصان پکښ نیشته نو قدوس دے او عارضی نقصان او شیب هم پکښ نشی راتللے نو سلام دے یا سلامتیا ورکوؤنکے دے بندګانوته هرکله چه اوغواړی، یا سلامتیا ورکوؤنکے دَ ظلم کولونه یعنی ظلم په هیڅا نه کوی ﴿الْمُؤْمِنُ﴾ امن ورکوؤنکے دے دوستانو خپلو ته دَ عذاب نه اوټولو خلقوته دَ خوف دَ ظلم کولونه ـ نو فرق دَ السلام په روستنے معنیٰ سره او المؤمن دادے چه السلام کښ اشاره ده چه معامله دَ ظلم دَهیڅا سره نه کوی او المؤمن کښ اشاره ده چه دَخوف دَ ظلم نه ئیے امن ورکړیدے۔ یا الْمُؤْمِنُ بنکاره کوؤنکے دَ توحید خپل دے په خپل شهادت سره چه (شهد الله انه لااله الاهو) اوپه دلیلونو سره، دا معنیٰ دَ مجاهد نه نقل ده ـ یا تصدیق کوؤنکے دَ رسولانو خپلو په معجزاتو سره او دَ مؤمنانو په ثواب ورکولو سره ﴿الْمُتَكَبِّرُ﴾ بنکاره کوؤنکے دے خپلے کبریاء لره په دلیلونو عقلیو او وحییو سره ـ ډیرلوئے دے په ټول مخلوق باندے په ذات او صفتونو سره۔ فرق په مینځ دَ مستکبر او متکبر کښ دا دے چه استکبار همیشه په ناحق لوئیے کښ استعمالیږی دَ دے وجے نه دا په صفت دَ الله تعالی کښ نه راځی اوتکبر کله په حق سره وی لکه په صفت دَ الله تعالی کښ اوکله په ناحقه سره وی لکه په صفت دَ مخلوق کښ۔

[۲٤] دا صفات هم په تصرف اوقدرت باندے دلالت کوی ﴿الْخَالِقُ﴾ دَ خلق نه دے او په معنیٰ دَ تقدیر دے لکه (خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيَاةَ) یا په معنیٰ دَ قدّر دے یا په معنیٰ دَ نطفے نه جوړول دَ بدن دے ﴿الْبَارِئُ﴾ هریو لره دَ بل نه په فرق او تفاوت سره جوړوؤنکے ﴿الْمُصَوِّرُ﴾ شکل او صورت دَ مخ اودَ اندامونو جوړوؤنکے ﴿لَهُ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى﴾ دا هم صفت دَ الله تعالی دے په اجمالی ذکر سره او اسماء نه اسماء صفتیه مراد دی په صیغه دَ اسم فاعل او صفة مشبه او اسم تفضیل سره او دا اسماء په قرآن کریم کښ غیراضافی (۹۲) دی اواضافی (۲٦) دی اودَ دے نه علاوه په احادیثوصحیحوکښ دی۔اودَ اسماء حسنیٰ حصر په خاص عدد کښ نیشته دے او کوم چه په حدیث صحیح کښ ذکردی چه الله تعالی لره یوکم سل نومونه دی نو دَ هغے مطلب دَ محدثینو په نیز باندے دا دے چه ثواب خاصّه (چه مَنْ اَحْصَاهَا

سُوْرَةُ الْمُمْتَحِنَةِ (۶۰) مَدَنِيَّةٌ (۹۱) | بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۱۳ رُكُوْعَاتُهَا ۲

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوْا عَدُوِّيْ وَعَدُوَّكُمْ اَوْلِيَآءَ تُلْقُوْنَ اِلَيْهِمْ بِالْمَوَدَّةِ وَقَدْ كَفَرُوْا بِمَا جَآءَكُمْ مِّنَ الْحَقِّ ۚ يُخْرِجُوْنَ الرَّسُوْلَ وَاِيَّاكُمْ اَنْ تُؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ رَبِّكُمْ ؕ اِنْ كُنْتُمْ خَرَجْتُمْ جِهَادًا فِيْ سَبِيْلِيْ وَابْتِغَآءَ مَرْضَاتِيْ ۚ تُسِرُّوْنَ اِلَيْهِمْ بِالْمَوَدَّةِ ۖ وَاَنَا اَعْلَمُ بِمَآ اَخْفَيْتُمْ وَمَآ اَعْلَنْتُمْ ؕ وَمَنْ يَّفْعَلْهُ

اے ایمان والو! مه نیسئے دُشمن زما او دُشمن ستاسو دوستان چه غورځوئ تاسو هغوی ته خبرے دَ دوستانے اوحال دا چه هغوی کفر کړے دے په هغه چه راغلے دے تاسوته دَ حق نه اوباسی دوی رسول(ﷺ) لره او تاسو لره دَ دے وجے نه چه تاسو ایمان راوړے دے په اللّٰه تعالیٰ چه رب ستاسو دے که چرے تاسو وتلی ئیے (دَ وطن نه) دپاره دَ جهاد په لار زما کښ او دپاره دَ لټولو دَ رضا زما پتے لیږئے تاسو هغوی ته دوستانے او څه ښه پوهه یم په هغه څه چه تاسو پټوئے او هغه څه چه تاسو ښکاره کوئے او چا چه اوکړو دا کار (په اٰئنده وخت کښ)

(بقیه تفسیر دَ سورة الحشر) دَخَلَ الْجَنَّةَ) په دے یو کم سلو پورے دے او حدیث صحیح کښ راغلی دی چه چا صبا اوبیګاه درے ځله (اعوذ باللّٰه السمیع العلیم من الشیطان الرجیم) اوئیلو بیا دا درے ایاتونه یوځل اولولی نو اللّٰه په دهٔ باندے اویازره ملائك مقرر کړی دعا ورله غواړی او که مړشی په دغه شپه یا ورځ کښ نومړ ګ به ئیے دَ شهادت وی۔ (اَللّٰهُمَّ ارْزُقْنَا مَوْتَ الشَّهَادَةِ فِيْ سَبِيْلِكَ)

سورة الممتحنه

دَ حا زوراو زیردواړه ثابت دی اونورنومونه ئیے سورة المؤدّة اوسورة المَرءة اوسورة الامتحان دی۔

ربط: دَ دے دَ مخکښ سورة سره په ډیرو وجوهو سره دے اوله وجه دا چه په هغه سورة کښ تخویف دنیوی وؤ دَپاره دَ مشاقینواوپه دے سورة کښ امرد ے مؤمنانوته دَ هغوی په برائت باندے۔ دویمه وجه دا ده چه په هغه سورة کښ دَ مؤمنانواقسام ذکر کړل نوپه دے سورة کښ دَکافرانواقسام ذکر کوی۔

دعویٰ دَ سورة: نهی ده دَ دوستانے دَ کافرانونه په(۱،۱٤) کښ۔ اویؤولس اسماء حسنیٰ ذکردی دپاره دَ معرفة الٰهیه۔

خلاصه دَ سورة: دا سورة دوه بابونوته تقسیم دے اول باب تر(۷)پورے دے پدیکښ منع ده مؤمنانولره دَ دوستانے دَ کافرانونه په ذکرکولو دَ اوؤ علتونو سره په (۲،۱)کښ او جواب دَ عذر دے په(۳)کښ اوترغیب دے په برائت کولو کښ، او اقتداء دَ ابراهیم علیه السلام او دَ تابعدارو دَ هغه ته په برائت کولو او په دعاګانو غوختلو کښ۔

تفسیر

[۱] پدیکښ منع ده مؤمنانو لره دَ دوستانے دَکافرانونه اودَ هغے دَپاره ځلور وجے دَ هغوی دَ دُشمنئ دَ

مِنْكُمْ فَقَدْ ضَلَّ سَوَآءَ السَّبِيْلِ ۝۱ اِنْ يَّثْقَفُوْكُمْ يَكُوْنُوْا لَكُمْ اَعْدَآءً وَّيَبْسُطُوْٓا اِلَيْكُمْ اَيْدِيَهُمْ وَ
اَلْسِنَتَهُمْ بِالسُّوْٓءِ وَوَدُّوْا لَوْ تَكْفُرُوْنَ ۝۲ لَنْ تَنْفَعَكُمْ اَرْحَامُكُمْ وَلَآ اَوْلَادُكُمْ ۚ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۚ يَفْصِلُ
بَيْنَكُمْ ۭ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ۝۳ قَدْ كَانَتْ لَكُمْ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ فِيْٓ اِبْرٰهِيْمَ وَ الَّذِيْنَ مَعَهٗ ۚ
اِذْ قَالُوْا لِقَوْمِهِمْ اِنَّا بُرَءٰٓؤُا مِنْكُمْ وَمِمَّا تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۡ كَفَرْنَا بِكُمْ وَبَدَا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ

ستاسو نه نو یقیناً گمراه شو دَ برابر لارے نه (۱) که چرے دَ دوی وس برشی په تاسو باندے نو کیږی دوی ستاسو دُشمنان او اوګد وی دوی تاسو ته لاسونه خپل او ژبے خپلے په بدئے سره او دوی غواړی چه تاسو کفر اوکړئے (۲) هیڅرے نفع نه درکوی تاسوته خپلولے ستاسو او نه اولاد ستاسو په ورځ دَ قیامت جدائي به اوکړی په مینځ ستاسو کښ او اللّٰه تعالیٰ ستاسو عملونو لره لیدونکے دے (۳) یقیناً شته دے ستاسو دپاره نمونه دَ تابعداریٔ خائسته په ابراهیم(علیه السلام) او په هغه کسانو کښ چه دَ هغه سره وؤ کله چه دوی اُوئیل قوم خپل ته یقیناً مونږ ویزاره یو ستاسونه او دَ هغه چانه چه تاسوئے بندګی کوئے سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه انکار کوؤ ستاسو دَ طریقے نه او ښکاره ده په مینځ زمونږ او ستاسو کښ

مؤمنانو سره ذکر کوی اودرے صفات ئے دَ مؤمنانو ذکر کړیدی ایمان اوجهاد اوطلب دَ رضا دَ اللّٰه تعالیٰ اودا صفتونه منع کوؤنکی دی دَ دوستانے دَ کافرانونه ﴿اَوْلِيَآءَ﴾ دَ ولایت درے مرتبے دی اوله مرتبه دَ کافرانوسره ملګرتیاکول په عقیده اوپه کاردَ کفراوشرك کښ داخو کفردے۔ دویمه مرتبه دَ هغوی سره په کارونو دَ کفر کښ مالی یا بدنی امدادکول اګرچه په کفراوشرك کښ ورسره شرکت نه کوی دا هم ګناه کبیره دے دریمه مرتبه دَ هغوی توقیراوعزت کول دَ هغوی نه مشرجورول اودَ هغوی دَاکرام دَپاره اودریدل وغیره دا هم ګناه دے اودا ټولے مرتبے په دے نفی کښ داخل دی۔ ﴿تُلْقُوْنَ اِلَيْهِمْ بِالْمَوَدَّةِ﴾ قرطبی وئیلی دی چه مراد دَ مَوَدَّت نه تعلق ظاهری دے ځکه چه زړه دَ حاطب بن ابی بلتعه﷜ (چه دا ایت دَ هغه په باره کښ نازل شویدے) دَ هغوی دَ دوستانے نه پاك وؤ په دلیل دَ قول دَ رسول اللّٰهﷺ سره،، امّا صاحبکم فقد صدق،، ﴿وَمَنْ يَّفْعَلْهُ مِنْكُمْ﴾ صیغه دَ فعل مستقبل ئے دَدے دَپاره راوړله چه داکارچا وارندے زمانه کښ کړے دے (لکه چه حاطب﷜ بن بلتعه کړے وؤ) نوهغه ګمراه او ګناهګارنه دے۔ قرطبی وئیلی دی چه دا ټول عتاب دے لکه چه یو دوست بل دوست ته کوی نو دلالت کوی په فضیلت او شرافت دَ حاطب﷜ باندے۔

[۲] پدے ایت کښ درے علتونه (یعنی اوصاف دَ کافرانو) ذکر کوی دَ پاره دَ براء ت کولو دَ هغوی نه۔ ﴿اِنْ يَّثْقَفُوْكُمْ﴾ دا لفظ استعمالیږی په موندلو کښ سرهٔ دَ غلبے نه ﴿وَاَلْسِنَتَهُمْ﴾ په کنځلو اوطعنونو وئیلو سره، او ایدیهم ئے مخکښ ذکر کړو اشاره ده ډیرے دشمنئ کولوته۔

[۳] په دے کښ جواب دَعذر دے چه حاطب﷜ ذکر کړے وؤ۔ (وئیلی ئے وؤ چه مادوی ته خط دَ دے وجے نه لیږلے وؤچه په دوی باندے زما احسان راشی نو په مکه کښ به زما دَ اهل اوقرابت والا اومالونوحفاظت اوکړی) حاصل جواب دا دے چه دَ قرابت اواولاد په سبب دَ عذاب الٰهی نه بچ کیدل نشی کیدلے۔ دَ بخاری په روایت کښ په معذرت دَ دهٔ کښ قرابت ذکر دے اونورو روایتونوکښ مال اواهل اواولاد هم ذکر کړے دے۔ اوهرکله چه اُمید دَ نفع ورکولوپه سختے کښ دَ خپلوانوسره اول کیدے شی نودَ هغوی

الْعَدَاوَةُ وَالْبَغْضَآءُ اَبَدًا حَتّٰى تُؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ وَحْدَهٗٓ اِلَّا قَوْلَ اِبْرٰهِيْمَ لِاَبِيْهِ لَاَسْتَغْفِرَنَّ لَكَ وَمَآ اَمْلِكُ لَكَ مِنَ اللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ ؕ رَبَّنَا عَلَيْكَ تَوَكَّلْنَا وَاِلَيْكَ اَنَبْنَا وَاِلَيْكَ الْمَصِيْرُ ۝٤ رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَاغْفِرْ لَنَا رَبَّنَا ۚ اِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝٥ لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيْهِمْ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ

دُشمنی او کینه همیشه تردے پورے چه ایمان راوړئے تاسو په الله تعالیٰ چه یودے (په معبودیت کښ) مګر وینا دَ ابراهیم(علیه السلام) پلار خپل ته ضرور به ځه بخنه غواړم تا لره او وس نه لرم ستا دَ بچ کولو دَ عذاب دَ الله تعالیٰ نه هیڅ قسم اے ربه زمونږه په تا باندے مونږ ځان سپارلے دے او خاص تاته مونږ درګرځو په بندګئے سره او خاص تاته ګرځیدل دی دپاره دَ جزاء (٤) اے ربه زمونږ مه ګرځوے مونږ ازمائش دپاره دَ کافرانو او بخنه اوکړے مونږ ته اے ربه زمونږ یقیناً ته خاص ته زوراور حکمتونو والا ئیے (٥) یقیناً شته ستاسو دپاره په دوی کښ نمونه دَ تابعداریٔ خائسته

ذکرئیے مخکښ راوړو۔ اوکیا هراسی نه نقل دی چه دَ دے ایت نه معلومه شوه چه دَ خوف دَ مال اواولاد دَ وجے نه فتنه دَ دین قبلول نشی جائز کیدے۔

[٤] په دے کښ جوابِ سوال دے یعنی که اوویلے شی چه دَ خپلوانو رشته دارانو سره براء ت کول دا خوبے دینی ده نو جواب اوشو چه دا خو دین دَ ابراهیم(علیه السلام) دے چه هغه اوملګرو دَ هغه دَ مشرکانونه برائت کړے ووٴ اګرچه دَ هغوی پلاران او اولاد وغیره وٴنودَ هغوی اقتداء کول لازم دی ﴿وَمِمَّا تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ﴾ یعنی هغوی ته مونږ هیڅ حق دَ معبودیت نه ورکوٴعبادت بدنیه مالیه هغوی لره نه کوٴ ﴿كَفَرْنَا﴾ په معنیٰ لغوی سره دے یعنی انکار کول۔ یعنی انکار کوٴمونږستاسودَ معبودانواو ستاسودَ دین دَ حقانیت نه یا ستاسوسره دَ تعلق سائلونه ﴿حَتّٰى تُؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ وَحْدَهٗٓ﴾ اشاره ده چه سبب دَ برائت اودشمنیٔ کولودَتوحید نه انکارکول دی نو معلومه شوه چه دَ مؤحد سره برائت کول حرام دی هاں هجران کول دَ یومصیبت دَ وجے نه جائز دی لیکن دَ برأت او هجران کولوپه مینځ کښ فرق دے۔ براء ت کول صرف په مشرك پورے خاص دی لکه سورة توبه (٣،١) اوسورة انعام (٧٨،١٩) سورة هود (٥٤،٣٥) ﴿اِلَّا قَوْلَ اِبْرٰهِيْمَ﴾ یعنی دَ ابراهیم(علیه السلام) اقتداء په ټولو اقوالواوافعالودَ هغه کښ ضروری ده مګرپه دے قول کښ تابعداری مه کوئے یعنی دَمشرك دَپاره دَاستغفاروعده مه کوئے او استغفار ورله مه غواړئے اوهغه چه استغفارغوختلودَ هغے تفصیل په سورة توبه(١١٤) کښ تیرشوے دے اودا قول دَ ابراهیم(علیه السلام) په سورة مریم (٤٧) کښ ذکرشویدے ﴿رَبَّنَا عَلَيْكَ تَوَكَّلْنَا﴾ یعنی مشرك قوم نه براء ت کول اودَ هغوی سره دشمنی کول خو مشکل عمل دے لیکن په الله تعالیٰ باندے په توکل کولو سره هرمشکل اسانیږی۔

[٥] دا هم دُعا دَ ابراهیم(علیه السلام) ده یا امردے په دے سره مؤمنانودَ دے امت ته ﴿فِتْنَةً﴾ مراد دَ دے نه عذاب دے یعنی دَکافرانو په لاس باندے مونږله عذاب مه راکوے یا فتنه په معنیٰ دَ امتحان اوپه شرك باندے پوخ پاتے کیدلوته وئیلے کیږی اوذکر دَ مسبب اومراد ترینه سبب دے چه هغه عذاب یا تسلط دَ کافرانو دے په مؤمنانو باندے یعنی اے ربه په مونږ باندے عذاب دَ خپل طرف یا دَ کافرانو دَ طرف نه مه راولے چه هغه به سبب اوګرځی دپاره دَ پخیدلو دَکافرانو په شرك باندے یعنی هغوی به ګمان اوکړی چه مونږ په حقه

لِّمَنْ كَانَ يَرْجُوا اللّٰهَ وَالْيَوْمَ الْاٰخِرَ ؕ وَمَنْ يَّتَوَلَّ فَاِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيْدُ ۝٦ عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّجْعَلَ
بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ الَّذِيْنَ عَادَيْتُمْ مِّنْهُمْ مَّوَدَّةً ؕ وَاللّٰهُ قَدِيْرٌ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝٧ لَا يَنْهٰكُمُ
اللّٰهُ عَنِ الَّذِيْنَ لَمْ يُقَاتِلُوْكُمْ فِي الدِّيْنِ وَلَمْ يُخْرِجُوْكُمْ مِّنْ دِيَارِكُمْ اَنْ تَبَرُّوْهُمْ وَتُقْسِطُوْٓا
اِلَيْهِمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِيْنَ ۝٨ اِنَّمَا يَنْهٰكُمُ اللّٰهُ عَنِ الَّذِيْنَ قٰتَلُوْكُمْ فِي الدِّيْنِ وَاَخْرَجُوْكُمْ

دپاره دَ هغه چا چه امیدلری دَ ملاقات دَ اللّٰه تعالیٰ او دَ ورځ روستنئے او چاچه مخ اوګرځوؤ نو یقیناً اللّٰه تعالیٰ هغه ے حاجته ستائیلے شویدے (٦) امید دے چه اللّٰه تعالیٰ به جوړه کړی په مینځ ستاسو او په مینځ دَ هغه کسانو کښ چه تاسو ورسره دُشمنی کوئے دَ دوی نه دوستانه او اللّٰه تعالیٰ قدرت والا دے او اللّٰه تعالیٰ بخنه کوؤنکے رحم کوؤنکے دے (٧) نه منع کوی تاسو لره اللّٰه تعالیٰ دَ هغه کسانونه چه نه ئیے دے کړے جنګ تاسو سره په دین اسلام کښ او نه ئیے ویستلی یئ تاسو دَ کورونو ستاسو نه چه نیکی کوئے تاسو دَ هغوی سره او ورکوئے حق په انصاف سره هغوی ته یقیناً اللّٰه تعالیٰ مینه کوی دَ انصاف کوؤنکو سره (په حق ورکولو کښ) (٨) یقیناً منع کوی تاسو لره اللّٰه تعالیٰ دَ هغه کسانو نه چه جنګ کوی تاسو سره په دین کښ او ویستلی ئیے تاسو

باندے یو نو دَ دے وجے نه په مؤمنانو باندے عذاب راغے یا زمونږ غلبه او تسلط وربانده راغے۔

[٦] دائے دوباره ذکر کړو۔ یو وجه دَ تکرار دا ده چه په دے کښ ئیے قید اولګوؤ دَ لِمَنْ كَانَ يَرْجُوا اللّٰهَ، چه دا اقتداء په صحیح عقیده او نیت سره پکار ده هغه وخت به فائده ورکوی ۔ دویمه وجه دا ده چه محکمین حکم دَ اقتداء وؤ په براء ت عن المشرکین کښ فقط او په دے کښ ترغیب دے په اقتداء سره په ټول ملتِ ابراهیمیه کښ چه پوره توحید دے ﴿وَمَنْ يَّتَوَلَّ﴾ یعنی چاچه اعراض اوکړو دَ اقتداء دَ ابراهیم علیه السلام نه یعنی براء ت دَ مشرکانونه نه کوی او دَ هغوی سره عداوت نه بنکاره کوی نو دهٔ ځان ته ضرر اورسوؤ ځکه چه اللّٰه تعالیٰ خو غنی ذات دے۔

[٧] دَ دے ایت نه دویم باب دَ سورة دے ترآخر پورے۔ په دے کښ اول تسلّی ده په لرے کولو دَ دُشمنئ بیا تقسیم دَ کافرانو دے دوؤ قسمونوته اول قسم سره تعلق دنیوی جائزدے اودَ دویم قسم سره مطلق تعلق ساتل منع دی ۔ بیا دوه قانونه دی دَپاره دَ دخول دَ زنانوپه اسلام کښ اول قانون په وخت دَ مصالحت پورے خاص دے او دویم عام دے او په اخری ایت کښ بیا دعویٰ دَ سورة ذکرکوی۔ په دے (٧) کښ تسلی ده مؤمنانوته روستو دَ امر کولو دَ برائت نه کافرانو سره (چه دشمنان دَ دین دی) اشاره ده چه برائت کول چه په حکم دَ اللّٰه تعالیٰ سره او دَ اللّٰه تعالیٰ دَپاره وی نو بنه نتیجه ورکوی﴿عَسَى﴾ دا لفظ اګرچه امید دَپاره وی لیکن اللّٰه تعالیٰ خودَ امیدونو لرلونه پاك دے دَ دے وجے دا په معنیٰ دَ تحقیق سره دے۔

[٨] په دے ایت کښ دَ کافرانو او مشرکینو هغه قسم ذکرکوی چه هغوی په مؤمنانو باندے هیڅ ظلم نه دے کړے نو دَ دوی سره دنیوی تعلقات په برّ او قِسط ورکولوسره جائزدے اګرچه موالات ورسره منع دے او دا حکم اوس هم جاری دے ﴿اَنْ تَبَرُّوْهُمْ﴾ دَ برّنه مراد دنیوی او انسانی حسن سلوك کول اوچه هغوی سره قرابت دَ نسب وی نو صِله رحمی ساتل مراد دی لکه حدیث دَ اسماء بنت ابی بکررضی اللّٰه عنها کښ

مِّنْ دِيَارِكُمْ وَظٰهَرُوْا عَلٰٓى اِخْرَاجِكُمْ اَنْ تَوَلَّوْهُمْ ۚ وَمَنْ يَّتَوَلَّهُمْ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ۝٩ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ
اٰمَنُوْٓا اِذَا جَآءَكُمُ الْمُؤْمِنٰتُ مُهٰجِرٰتٍ فَامْتَحِنُوْهُنَّ ۭ اَللّٰهُ اَعْلَمُ بِاِيْمَانِهِنَّ ۚ فَاِنْ عَلِمْتُمُوْهُنَّ مُؤْمِنٰتٍ
فَلَا تَرْجِعُوْهُنَّ اِلَى الْكُفَّارِ ۭ لَا هُنَّ حِلٌّ لَّهُمْ وَلَا هُمْ يَحِلُّوْنَ لَهُنَّ ۭ وَاٰتُوْهُمْ مَّآ اَنْفَقُوْا ۭ وَلَا
جُنَاحَ عَلَيْكُمْ اَنْ تَنْكِحُوْهُنَّ اِذَآ اٰتَيْتُمُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ ۭ وَلَا تُمْسِكُوْا بِعِصَمِ الْكَوَافِرِ وَسْـَٔـلُوْا مَآ
اَنْفَقْتُمْ وَلْيَسْـَٔـلُوْا مَآ اَنْفَقُوْا ۭ ذٰلِكُمْ حُكْمُ اللّٰهِ ۭ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ ۭ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ۝١٠ وَاِنْ فَاتَكُمْ

دَ کورونو ستاسو نه او امداد ئیے کړے دے په ویستلو ستاسو باندے چه دوستانه کوئے تاسو دَ هغوی سره او چا چه دوستانه اوکړه دَ هغوی سره نو دغه کسان دوی ظالمان دی (۹) اے ایمان وا لو هر کله چه راشی تاسو ته مؤمنے زنانه هجرت کوؤنکی نو امتحان واخلے دَ هغوی (دَ ایمان) اللّٰه تعالیٰ ښه پوهه دے په ایمان دَ هغوی نو که ستاسو علم راغے چه دوی مؤمنے دی نومه واپس کوئے دوی لره کافرانو ته،نه هغوی حلالے دی دوی لره او نه دوی حلال دی هغوی لره او ورکوئے دوی ته هغه خرچ چه کړے وی هغوی (په زنانۂباندے) اوګناه نیشته په تاسو باندے چه نکاح اوکړئے تاسو دَ هغوی سره کله چه ورکوئے تاسو مهرونه دَ هغوی او مه راتینګوئے نکاحونه دَ کافرو ښځو اوغواړئے تاسو هغه چه خرچ کړیوی تاسو اوهغوی دِ هم غواړی هغه چه هغوی خرچ کړے وی ، دا فیصله دَ اللّٰه تعالیٰ ده فیصله کوی په مینځ ستاسو کښ اواللّٰه تعالیٰ عالم دے په هرڅه حکمتونو والادے (۱۰) او که چرے پاتے شی ستاسو

راغلی دی چه نبی ﷺ هغے ته اجازت ورکړے وؤ چه دَ مور سره صِله رحمی اوکړه کله چه مورئیے مشرکه وه ﴿وَتُقْسِطُوْٓا اِلَيْهِمْ﴾ دَ اقتساط نه مراد دَ مال څه حصّه ورکول په طور دَ احسان یا دَ صله رحمئ سره دی عدل کول مراد نه دے ځکه عدل په مؤمن باندے دَ هرکافر سره واجب دے او په برّ او اقساط کښ هغوی ته دعوت دَ توحید او سنت هم داخل دے په نرمه لهجے سره۔

[۹] په دے ایت کښ دویم قسم دَ کافرانوذکرکوی چه دَ هغوی سره هرقسم احسان اوموالات کول حرام دی اوهغه مقابلین ظالمان دی۔ اودَ دوی دشمنی په درے طریقوسره ښکاره ده قتال کول دَمؤمنانوسره۔ دَوطن نه ویستل اونورو دشمنانو سره مددکول په دے درے واړو کښ اګرچه یوعمل پکښ هم موجودوی نوهم په دے قسم کښ داخل دے۔

[۱۰] هرکله چه حکم اوکړے شو په براء ت دَ کافرانو سره په اول دَ سورۃ کښ نو تقاضا دَ براء ت داده چه دَ کافرانو او مؤمنانوپه مینځ کښ تعلق دَ نکاح هم ختم کړیشی نو په دے ایت کښ داحکم ذکر کوی۔ او حاصل دَ دے ایت دا دے چه په دے کښ شپږ احکام دی او ل امتحان دَمهاجراتودویم کافرانوته واپس کول، دریم حرمت دَ نکاح دَ مؤمنے زنانه په کافرنارینه باندے اوبرعکس هم، څلورم دَ مشرکانو مهراومال واپس کول، پنځم مشرکے زنانه دَ نکاح نه ویستل۔ شپږم دَ مشرکانونه خپل مالی حق طلب کول۔ اوسبب دَ دے احکامودا وؤچه په صلح حدیبیه کښ یوشرط دا مقررکړے شوچه دَ مشرکانونه څوک مؤمنانوته هجرت اوکړی نوهغه به کافرانوته واپس ورکیدے شی۔ نوهرکله چه په دغه وخت کښ دَ مکے

شَيْءٌ مِّنْ اَزْوَاجِكُمْ اِلَى الْكُفَّارِ فَعَاقَبْتُمْ فَاٰتُوا الَّذِيْنَ ذَهَبَتْ اَزْوَاجُهُمْ مِّثْلَ مَآ اَنْفَقُوْا ؕ وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِيْٓ اَنْتُمْ بِهٖ مُؤْمِنُوْنَ ۝۱۱ يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ اِذَا جَآءَكَ الْمُؤْمِنٰتُ يُبَايِعْنَكَ عَلٰٓى اَنْ لَّا يُشْرِكْنَ بِاللّٰهِ شَيْـًٔا وَّلَا يَسْرِقْنَ وَلَا يَزْنِيْنَ وَلَا يَقْتُلْنَ اَوْلَادَهُنَّ وَلَا يَاْتِيْنَ بِبُهْتَانٍ يَّفْتَرِيْنَهٗ بَيْنَ اَيْدِيْهِنَّ

څه مال دَ بيبيانو ستاسونه کافرانو ته نو ستاسو نمبر چه راشي نو ورکړئ هغه کسانو ته چه تلے وی بيبيانے دَ هغوی پشان دَ هغے چه دوی خرچ کړی دی او ويره کوئے دَ اللّٰه تعالیٰ نه هغه ذات دے چه تاسو په هغه باندے ايمان لرئے (۱۱) اے نبی(ﷺ) کوم وخت چه راشی تاته زنانه مؤمنے بيعت کوی تاسره په دے خبرو باندے چه شريك به نه ګڼړی دَ اللّٰه تعالیٰ سره هيڅ څيز او نه به غلا کوی او نه به زنا کوی او نه به وژنی بچی خپل او نه به راتلل کوی په بدنامے لګولو سره چه جوړوی ئے دَخپلو لاسونو

نه بعضِ زنانو هجرت اوکړو مدينے منورے ته نو کافرانو دَ هغوی دَ واپسئی مطالبه اوکړه نواللّٰه تعالیٰ دا ايت نازل کړو اوپه دے کښ تشريح اوشوه چه شرط دَ واپسئ په نارينو پورے خاص دے زنانوته شامل نه دے ﴿فَامْتَحِنُوْهُنَّ﴾ هرکله چه هجرت دَپاره ډيراسباب دی اوخصوصاً دَ زنانه دَ هجرت دَپاره کله سبب وی دَ خاوند سره اختلاف اوکله محبت دَ بل سړی سره۔ اوکله خاوندته ضرر ورکول دَ دے وجے نه امتحان کول ضروری دی چه معلومه شی چه دَ دوی هجرت فقط دَپاره دَ ايمان دے اوکنه ﴿فَاِنْ عَلِمْتُمُوْهُنَّ مُؤْمِنٰتٍ﴾ په ذريعه دَ قسم او دَ شهادت دَ ژبے سره او په نورو علاماتو سره هم ظن غالب حاصلېږی ليکن په شرع کښ په دے باندے هم اطلاق دَ عِلم کيدے شی لکه په سورۃ يوسف(۸۱) کښ دی ﴿لَاهُنَّ حِلٌّ لَّهُمْ﴾ په ابتدا دَ اسلام کښ نکاح دَ مشرکانو دَ مؤمناتوسره جائزووَدَ دے وجے نه دَ نبی ﷺ بعضِ لونړه مشرکانوته واده شوے وے نو په دے ايت سره دَ دے حرمت راغے ﴿وَاٰتُوْهُمْ مَّآ اَنْفَقُوْا﴾ داحکم خاص دے په حالت دَ صلح په مينځ دَ مؤمنانو او کافرانو کښ لکه په وخت دَ صلح دَحديبيه کښ دا قول دَ قتادہؒ دے اودا صحيح دے اومراد دَ انفقوا نه هغه مهردے چه خاوند ورکړے وی اوپيشکی نفقه ده ﴿وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ اَنْ تَنْكِحُوْهُنَّ﴾ يعنی اګرچه مشرك خاوندے دے بنځے ته طلاق نه وی ورکړے ليکن نکاح دَ دوی مات شوے نو روستودَ استبراء يا دَ عدت تيريدلونه دَ مسلمان سره نکاح کول جائز دی۔ ﴿وَلَا تُمْسِكُوْا بِعِصَمِ الْكَوَافِرِ﴾ يعنی لکه چه نکاح دَمؤمنے دَکافرسره مات شونودارنګ نکاح دَکافرے بنځے دَمؤمن سره هم ختم شو۔اواتفاق دَمفسرينودے چه مراد دَ دے نه مشرکه غيرکتابيه ده اودَکتابيے حکم دَ دے نه خاص کړے شويدے په سورۃ مائده(۵) کښ ﴿وَاسْئَلُوْا مَآ اَنْفَقْتُمْ﴾ دا خاص دے په زمانه دَعهد اودَ صلح پورے بالاتفاق اواشاره ده چه داحق دَجانبينودے دَوجے دَعهد نه۔

[۱۱] دا متعلق دے دَ مخکنی حکم سره يعنی مهردَ مرتدے زنانه دَکافرانونه اوغواړئے نوکه چرے هغوی انکاراوکړودَمهردَ واپس کولونوهرکله چه تاسوځه مالِ فئ يا غنيمت دَ دغه کافرانونه حاصل کړئے نودَ تقسيم نه مخکښ دغه سړی ته(چه زنانه ئے مرتده شويده اوکافرانودَ هغے مهرنه دے واپس کړے) مهر مثل دَ بنځے دَ هغه ورکړئے دَ مجاهد اوقتاده نه روايت دے چه داحکم عام دے که دغه کافرانوسره عهدوی اوکه نه وی۔ اوبعضو مفسرينو خاص کړے دے په وخت دَ عهد پورے ﴿فَعَاقَبْتُمْ﴾ مراد دَ دے نه دَ هغوی

وَاَرْجُلِهِنَّ وَلَا يَعْصِيْنَكَ فِيْ مَعْرُوْفٍ فَبَايِعْهُنَّ وَاسْتَغْفِرْ لَهُنَّ اللّٰهَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ⑫ يٰٓاَيُّهَا

او خپو ترمینځه او نافرمانی به نه کوی ستا په هیڅ کار دَ دین کښ نو بیعت اوکړه دَ دوی سره او بخنه غواړه دوی لره دَ اللّٰه تعالیٰ نه یقیناً اللّٰه تعالیٰ بخنه کوؤنکے رحم کوؤنکے دے (۱۲) اے

سره جنګ او قتال کول دی کله چه عهد ورسره نه وی کړے یا عهد مات کړی یا مراد دادے چه دَ دغه کافرانو زنانه تاسوته راشی اومهردَ ځان سره راوړی نودغه مهرهغه کافرانوته واپس مه ورکوئے (اګرچه عهدوی) بلکه هغه مؤمن له ئیے ورکړے چه دَ هغه دَ ښځے مهرکافرانوته پاتے شوے وؤ۔

[۱۲] دا قانون تفسیردَ فامتحنوهن دے یعنی مراد دَ امتحان نه دا بیعت دے ځکه چه په حدیث دَ بخاری کښ راغلی دی چه نبی ﷺ به دَ مهاجراتو امتحان کوؤ په دے آیت سره نو چابه چه اقرار اوکړو په دے شرطونو باندے نورسول اللّٰه ﷺ به ورته اُوئیل چه ما تاسره بیعت اوکړو په خبرو سره اولاس به ئیے دَ هغے په لاس کښ نه ورکوؤ۔بیا دا حکم په مهاجراتو پورے خاص نه دے بلکه زنانه به چه کله ایمان راوړونودَ هغے ایمان دَپاره هم دا شرطونه وؤ۔ اوپه حدیث دَ بخاری کښ دی چه نبی ﷺ دَ عید الفطردَ خطبے نه روستو زنانوته راغلے نوپه دے ایت سره ئیے ورته خطاب اوکړونوټولے زنانه چپ شوے صرف یوے ورته جواب ورکړو۔ اوپه بل حدیث صحیح سره ثابت دی چه نبی ﷺ داسے بیعت دَ نارینونه هم اخستلے وؤ او دا بیعت مشتمل دے په شپږ خبرو باندے۔

تنبیه: نن زمانه کښ داسے ډیرپیران پیدا شویدی چه پخپله په شرك کښ اخته وی او نور خلق هم په شرك کښ اچوی او ډیر جاهلان ئیے ګمراه کړی دی دَ هغوی نه اجتناب کول فرض دی ځلورمه خبره ﴿وَلَا يَقْتُلْنَ اَوْلَادَهُنَّ﴾ قتل دَ ناحق خومطلقاً حرام دے لیکن زنانه اکثر په نور قتل باندے قدرت نه لری ما سیوا دَ بچو دَ قتل کولونه دَ دے وجے نه دَ دے تخصیص ئیے اوکړو او مراد دَ دے نه قتل دَ عام اولاد دے دَ وجے دَ فقراو لوګے نه لکه چه په سورة انعام (۱۵۱) او سورة اسراء(۳۱) کښ ذکر دی او قتل دَ لونړو پکښ هم داخل دے۔ اومفسر الوسی وئیلی دی چه کیدے شی چه دا قتل شامل وی اسقاط حمل ته روستو دَ ساه اخستلو دَ بچی نه۔ پنځمه خبره ﴿وَلَا يَاْتِيْنَ بِبُهْتَانٍ يَّفْتَرِيْنَهٗ بَيْنَ اَيْدِيْهِنَّ وَ اَرْجُلِهِنَّ﴾ پدیکښ دَ مفسرینو ډیر اقوال دی اول دا چه مراد دَ بهتان نه موندلے شوے ځوئیے دے چه خاوند ته ئیے نسبت کیږی او ولد په وخت دَ پیدائش کښ دَ موردَ لاسو اوخپوپه مینځ کښ پروت وی دویم داچه مراد دَ دینه ولد دَ زناد ے چه اول خوبه ئیے قتل کوؤ اوکه دَ قتل نه بچ شونوبیا به ئیے خاوند ته نسبت کوؤ اوحمل په خپله کښ وی اوخپله په مینځ دَ لاسواو خپوکښ ده دَ دے وجے نه زنا او قتل دَ ولد اوبهتان ئیے په ترتیب سره ذکرکړل۔ دریم مراد دَ بهتان نه په چا باندے دَ یوګناه بدنامه لګول دی چه دَ ځان نه ئیے جوړوی دلیل ورسره نه وی نو دَ دے نه تعبیر کیږی په بین ایدیهن او ارجلهن سره۔ او په دے کښ دروغ غیبت چغلی کول کنځل دَ زنا دا ټول داخل دی۔ شپږمه خبره ﴿وَلَا يَعْصِيْنَكَ فِيْ مَعْرُوْفٍ﴾ دَ دے دوه معنے دی یو معنیٰ خاص ده هغه مقابل دَ منکرده یعنی هغه ځیزچه په شرعے سره دَ هغے ځُسن ثابت وی نوما قبل کښ منکرات او منهیات پنځه ذکرشول او په معروف کښ مامورات مراد دی او هغه ډیر دی دَ دے وجے نه ئیے

اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَوَلَّوْا قَوْمًا غَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ قَدْ يَئِسُوْا مِنَ الْاٰخِرَةِ كَمَا يَئِسَ الْكُفَّارُ مِنْ اَصْحٰبِ الْقُبُوْرِ ﴿١٣﴾ ع

ایمان والو دوستانه مه کوئے دَ هغه قوم سره چه غضب کړیدے اللّٰه تعالیٰ په هغوی باندے یقیناً نا امیده دی دوی دَ اخرت نه لکه چه نا امیده دی کافران دَ دوباره ژوند دَ قبرونو والو نه (۱۳)

اجمالاً ذکر کړل۔ دویمه معنیٰ عامه ده هغه دا چه هرهغه څیزچه دَ هغے حکم په شرعے سره معلوم وی چه جائزیا ناجائز دے په دے معنیٰ سره ماموراتو او منهیاتوته شامل دے۔

فائدہ: الوسی او قاسمی لیکلی دی چه معروف لفظ کښ اشاره ده چه دَ هیڅ مخلوق طاعت بغیر دَ معروف نه جائزنه دے۔

[۱۳] دا ایت متعلق دے دَ ابتداء دَ سورة سره چه دعویٰ دَ سورة ده۔ په ابتداء دَ سورة کښ دَ عوامو مشرکانونه براء ت وؤ اوپه دے ایت کښ دَکتابیانوکافرانونه براء ت دے ﴿قَدْ يَئِسُوْا مِنَ الْاٰخِرَةِ﴾ یعنی دَ خیراوثواب دَ اخرت نه نا امیده دی دَ وجے دَ عناد دَ دوی نه دَحق سره یعنی سرهٔ دَ علم نه انکارکوی دَعناد دَ وجے نه نو ښه پوهیږی چه زمونږپه اخرت کښ اجراوثواب نیشته﴿كَمَا يَئِسَ الْكُفَّارُ مِنْ اَصْحٰبِ الْقُبُوْرِ﴾ مِن بیانیه دے یعنی هغه کافران چه مړه شویدی نو هغوی یقیناً دَ ثواب دَ اخرت نه نا امیده شویدی یا هغوی دَ ژوندونه نا امیده دی چه دوی به ورته څه خیر او رسوی یا معنیٰ دا ده لکه چه نا امیده دی ټول کافران دَ دوباره ژوند دَ اصحاب قبورنه۔

سُوْرَةُ الصَّفِّ (٦١) مَدَنِيَّةٌ (١٠٩) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ١٤ رُكُوْعَاتُهَا ٢

سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۚ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ① يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لِمَ تَقُوْلُوْنَ مَا لَا تَفْعَلُوْنَ ② كَبُرَ مَقْتًا عِنْدَ اللّٰهِ اَنْ تَقُوْلُوْا مَا لَا تَفْعَلُوْنَ ③ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الَّذِيْنَ يُقَاتِلُوْنَ

پاکی وائي اللّٰه تعالیٰ لره هغه څیزونه چه په اسمانونو کښ او هغه څیزونه چه په زمکه کښ دی او خاص اللّٰه تعالیٰ زوراور حکمتونووالا دے (۱) اے ایمان والو ولے وائیے په ژبه هغه خبرے چه نه ئیے کوئے (په عمل کښ) (۲) غټه وجه دَ غصے ده په نیز دَ اللّٰه تعالیٰ دا چه وائے په ژبه هغه چه عمل پرے نه کوئے (۳) یقیناً اللّٰه تعالیٰ مینه کوی دَ هغه کسانو سره چه جنګ کوی

سورة الصف

دیته سورۂ حواریین او سورۂ عیسیٰ هم وئیلے شی۔

ربط: دَ دے دَ ماقبل سره دا دے چه تیرشوی سورۂ کښ زجر وؤ مؤمنانوته په غیر مناسب کارونو باندے نو په دے سورۂ کښ زجر دے په اقوالوغیرمناسبوباندے بله وجه داده چه په هغه سورۂ کښ منع وه دَ دوستانے دَ مشرکانونه نو پدے سورۂ کښ ترقی ده چه دَ دوی سره جنګ اوقتال اوکړئے۔

دعویٰ دَ سورۂ: زجردے په مخالفت دَ عمل دَ قول دَ (۲،۳) نه لکه سرهٔ دَ دعوے دَ ایمان نه دَ جهاد او قتال نه مخ ګرځول او مسئله دَ توحید هم په اول کښ ذکر ده اوترغیب دے جهاد ته په (٤) کښ۔

خلاصه دَ سورۂ: مختصره خلاصه دا ده چه په دے سورۂ کښ درے خطابات دی په یٰٓاَیهاالذین امنوا سره په اول خطاب کښ زجردے په ترك دَ قتال فی سبیل اللّٰه اوترغیب دے قتال ته اوپه دویم کښ بشارت اخرویه او دنیویه دے او په دریم کښ ترغیب دے چه په طریقه دَ حواریینو سره جهاد اوکړئے۔ اوتفصیل دا دے چه اول دعویٰ دَ توحید ده بیا زجر دے په مخالفت دَ قول او دَ عمل بیا ترغیب دے قتال ته بیا دوه دلیلونه نقلیه دی اول دَ موسیٰ علیه السلام او دویم دَ عیسیٰ علیه السلام نه اوتخویف دے په ذکر دَ حال دَ یهودیانوچه هغوی قتال فی سبیل اللّٰه پریخودلے وؤ۔ بیا ترغیب دے تابعدارئے دَ اخری رسول ته خصوصاً په قتال فی سبیل اللّٰه کښ اوتاکید دَ ترغیب ئیے ذکرکړیدے په بشارت دَ عیسیٰ علیه السلام سره په باره دَ دے رسول کښ اوزجردے په تکذیب باندے او زجردے په افتراء باندے اوزجرپه اطفاء دَ نُور دَ اللّٰه تعالیٰ باندے۔ بیا ذکرکوی صدق دَ رسول چه دے رالیږلے شویدے دَپاره دَ قتال فی سبیل اللّٰه ۔ بیا بشارت اخرویه او دنیویه دے په باره دَ جهاد کښ اوپه اخرکښ ترغیب دے نصرت او قتال فی سبیل اللّٰه تعالیٰ ته په شان دَ حواریینو۔

تفسیر

[۱] په دے کښ ذکردَ توحید دے په تعبیردَ تسبیح سره۔ اوپدیکښ اشاره ده دفع کولودَ اعتراض ته چه فائِده دَ قتال راجع ده تاسوته اللّٰه تعالیٰ دیته محتاج نه دے ځکه چه اللّٰه تعالیٰ دَ هرقسم عیب اواحتیاج نه داسے پاك دے چه اسمانونو او زمکو والا دَ هغه په پاکوالی باندے ګواهی کوی۔

[۲] دا اول خطاب دے مؤمنانوته دَ درے خطاباتونه اومقصد پدیکښ تیزی ورکول دی په قتال فی سبیل

فِيْ سَبِيْلِهٖ صَفًّا كَاَنَّهُمْ بُنْيَانٌ مَّرْصُوْصٌ ۝٤ وَاِذْ قَالَ مُوْسٰى لِقَوْمِهٖ يٰقَوْمِ لِمَ تُؤْذُوْنَنِيْ وَقَدْ
تَّعْلَمُوْنَ اَنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَيْكُمْ ؕ فَلَمَّا زَاغُوْٓا اَزَاغَ اللّٰهُ قُلُوْبَهُمْ ؕ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ۝٥
وَاِذْ قَالَ عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اِنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَيْكُمْ مُّصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ
التَّوْرٰىةِ وَمُبَشِّرًا بِرَسُوْلٍ يَّاْتِيْ مِنْۢ بَعْدِي اسْمُهٗٓ اَحْمَدُ ؕ فَلَمَّا جَآءَهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ قَالُوْا هٰذَا سِحْرٌ

په لار دَ الله تعالیٰ کښ صفونه صفونه ګویا چه دوی دیوال دے په یو بل کښ ننوتلے (٤) او کوم وخت چه اُوئیل موسیٰ(علیه السلام) قوم خپل ته اے زما قومه ولے خفه کوئے ما او حال دا چه یقیناً پوهیږئے تاسو چه ځه رسول دَ الله تعالیٰ (رالیږلے شوے یم) تاسو ته نو هر کله چه دوی کا ګه شول کا ګه کړه الله تعالیٰ زړونه دَ دوی او الله تعالیٰ هدایت نه ورکوی قوم ډیر نافرمان ته (٥) او کوم وخت چه اُوئیل عیسیٰ(علیه السلام) ځوئي دَ مریم اے بنی اسرائیلو یقیناً ځه رسول د الله تعالیٰ (رالیږلے شوے یم) تاسوته تصدیق کوؤنکے دَ هغه کتاب چه زما نه مخکښ دے چه تورات دے او زیرے ورکوؤنکے یم پدا سے رسول چه راځی به په ما پسے روستو نوم دَ هغه احمد دے نو هر کله چه راؤړل ئیے دوی ته ښکاره معجزات دوی اُوئیل دا جادو

الله باندے اوزجر دے په مخالفت دَ قول او دَ عمل باندے او دَ دے مختلفے طریقے دی اوله طریقه داچه په تیره زمانه کښ یوشخص یوکارنه وی کړے او دے وائي چه مافلانے کار کړے دے نو دیته دروغ وئیلے کیږی۔ او دویمه طریقه په زمانه مستقبل پورے متعلق ده یعنی که یو شخص اووائي چه ځه به فلانے کار کوؤم او بیائیے اونکړی ۔ او دریمه طریقه دا ده چه مراد دا دے چه کوم فعل دَ انسان دَ قدرت نه بهروی او دے وائي چه ځه به دا فلانے کار کوؤم نو په دے معنیٰ سره زجر په قول باندے دے پشان دَ اولے طریقے۔

[۳] پدیکښ تاکید دے دَ زجریه پنځه وجوهو سره او په دواړه ایاتونوکښ سخت زجر هغه عالمانو خطیبانوته دے چه په علم باندے عمل نه کوی او نورو خلقوته وعظ کوی۔

[٤] په دے ایت کښ ترغیب دے قتال فی سبیل الله ته عملاً۔ او دَ دے ایت دَ اتصال نه معلومه شوه چه اول دواړه ایتونه په طریقه دَ تمهید عمومی سره وؤ او په دے کښ مقصد ئیے ذ کرکړو یعنی چه قول دَ امنّا تاسو کړے دے نو دَ هغے دَپاره عمل دَ قتال ضرور اوکړئے او دا دَ خطاب طریقه ده چه اول عمومی کلام ذکرکړے شی نو بیا خصوصی مقصد دَ هغے په مناسبت کښ ذکرکړے شی ﴿كَاَنَّهُمْ بُنْيَانٌ مَّرْصُوْصٌ﴾ هغه دیوال چه ګټے اوخښتے دَ هغے په یوبل کښ اومنډلے شی تردے پورے چه چودونه ئیے بندشی او هموارو‌ی او مضبوط وی نو داسے صف دَ قتال او صف دَ مونځ دَ جماعت ضروری دے چه دَ یوبل سره داسے جُخت وی چه په مینځ کښ فُرَجات نه وی او دَ نعمان بن بشیر روایت امام بخاری نقل کړیدے چه مونږ به په صف کښ اوګے اوګیټئی دَ خپودَ یوبل سره پیوست کولے۔

[٥] دا دلیل نقلی دے دَ موسیٰ(علیه السلام) نه چه موسیٰ(علیه السلام) دعوت توحید او جهادته ورکړے وؤ او دارنګ په دیکښ تسلی ده نبی(ﷺ) ته په داسے طریقه چه دا منافقان چه مخالفت کوی دَ امردَ قتال نه نو صبرکوه ځکه چه داسے یهودیانوهم دَ موسیٰ(علیه السلام) دَ امرنه خلاف کړے وؤاوهغه صبرکړیدے ﴿لِمَ تُؤْذُوْنَنِيْ﴾ بنی اسرائیلوموسیٰ(علیه السلام) ته ډیرے ایذاګانے ورکړے وے لکه سورة نساء (۱۵۳) اواعراف(۱۳۸)کښ او نورے

مُّبِيْنٌ ۝٦ وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ وَهُوَ يُدْعٰٓى اِلَى الْاِسْلَامِ ۭ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ۝٧ يُرِيْدُوْنَ لِيُطْفِـُٔوْا نُوْرَ اللّٰهِ بِاَفْوَاهِهِمْ وَاللّٰهُ مُتِمُّ نُوْرِهٖ وَلَوْ كَرِهَ الْكٰفِرُوْنَ ۝٨ هُوَ الَّذِيْٓ

ښکاره دے (٦) او څوك ډیر ظالم دے دَ هغه چانه چه جوړوی په الله تعالیٰ باندے دروغ او حال دا چه هغه رابللے کیدے شی اسلام ته او الله تعالیٰ هدایت نه ورکوی قوم ظالمانو ته (٧) دوی غواړی چه مړه کړی رنړا دَ الله تعالیٰ په خپلو خلو سره او الله تعالیٰ پوره کوؤنکے دے رنړا خپلے لره اګر چه بدئیے کنړی کافر (٨) خاص الله تعالیٰ هغه ذات دے

واقعے هم په احادیثواو کتابونودَ تفسیرکښ شته دے لویه ایذاء هغه ده چه په سورة مائده (٢٤) کښ ذکر شویده یعنی انکار دَ قتال فی سبیل الله نه او دلته دا مراد واضح دے ﴿اَزَاغَ اللّٰهُ قُلُوْبَهُمْ﴾ جزاء دَ جنس دَ عمل نه وی هرکله چه دوی دَ طاعت او دَ ایمان اودَ احترام دَ رسول اودَ قتال فی سبیل الله نه کاړه شول نوالله تعالیٰ دَ دوی په زړونو کښ شکوك،حیرانتیا، اوګمراهی پیداکړه ﴿الْفٰسِقِيْنَ﴾ دا فسق دَ عقیدے دے په قرینه دَ زیغ سره ځکه چه زیغ دَ عقیدے سره تعلق لری۔

[٦] دا هم دلیل نقلی دے چه عیسیٰ علیه السلام تصدیق دَ تورات هم کړیدے لیکن بنی اسرائیلو دَ هغه نه زیغ اوکړو او دا رنګ بشارت ئے په اخری نبی سره هم ورکړیدے خودا بنی اسرائیل دَهغه نه هم انکارکوی۔ او په حدیث دَ مسند احمد کښ راغلی دی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه ځه دُعا دَپلاریم چه ابراهیم علیه السلام دے او بشارت دَ عیسیٰ علیه السلام هم یم ﴿مِنْۢ بَعْدِيْ﴾ لفظ دَ بعد دلالت کوی په مطلق روستووالی، اولفظ دَ مِن چه داخل شی په بعد باندے نو اشاره ده قِلّتِ بعدیت او عدمِ واسطے ته په مینځ دَ مخکنی او روستنی کښ یعنی په مینځ دَ عیسیٰ علیه السلام او محمد ﷺ کښ بله واسطه (یعنی بل رسول اونبی) نه دے راغلے اودَ دے دواړو په مینځ کښ تقریباً پنځه سوه اونهه اویاکاله فاصله ده ﴿اَحْمَدُ﴾ امام رازی په تفسیرکبیر اوقاسمی په خپل تفسیر کښ اوالشیخ رحمت الله الکیرانوی په کتاب اظهارالحق کښ دَ انجیل دَ یوحنّا دَ څوارلسم باب نه بشارت په لفظ دَ فاقلیط سره نقل کړیدے او دا یونانی لفظ دے او اصل ئے ببرکلوط دے او معنیٰ دَ هغے احمد دے او په انجیل دَ برناباکښ صریح عبارتونه ډیردی هاں روستوراهبانودَ ډیرضد دَ وجے نه په دغه الفاظوکښ تحریفات کړیدی۔ اوحدیث دَ بخاری کښ دی چه ځه محمدیم او احمد یم اوماحی اوحاشراوعاقب یم۔

فائده: فرق په مینځ دَ احمد او محمد کښ په دوه طریقو سره دے اول داچه احمد اسم تفضیل دے یعنی احمد الحامدین لله۔ ټول انبیاء علیهم السلام حمد ویونکی دی لیکن اخری نبی دَ ټولونه زیات حمد ویونکے دَ الله تعالیٰ دے اومحمد په معنیٰ دَ محمود سره دے لیکن محمود صرف حمد کړے شوی ته وئیلے کیږی او محمّد هغه ته وئیلے شی چه باربار ئے حمد وئیلے کیږی۔ او دَ دے نه چه مرزائي خپل نبوت دَ اثبات دَپاره دلیل ذکرکړے دے نو هغه خالص دروغ او تحریف دے ځکه چه دَ مرزائي نوم غلام احمد دے او په دے ایت کښ احمد ذکرشویدے او مضاف خو غیروی دَ مضاف الیه نه۔

[٧] دا زجردے هغه کسانوته چه بیناتوته سِحروائي که یهودوی چه تکذیب دَ عیسیٰ علیه السلام ئے کړے دے اوکه یهوداونصاریٰ دواړه دی چه تکذیب ئے دَ اخری نبی ﷺ کړے دے ﴿الظّٰلِمِيْنَ﴾ یعنی انکار دَ حق نه

اَرْسَلَ رَسُوْلَهٗ بِالْهُدٰى وَدِيْنِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهٗ عَلَى الدِّيْنِ كُلِّهٖ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُوْنَ ۝٩ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ
اٰمَنُوْا هَلْ اَدُلُّكُمْ عَلٰى تِجَارَةٍ تُنْجِيْكُمْ مِّنْ عَذَابٍ اَلِيْمٍ ۝١٠ تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَتُجَاهِدُوْنَ فِيْ
سَبِيْلِ اللّٰهِ بِاَمْوَالِكُمْ وَاَنْفُسِكُمْ ؕ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ۝١١ يَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ وَ

چه را اولیږه ئے رسول خپل په هدایت سره او په حق دین سره دَ دے دپاره چه غالب کړی هغه لره په دینونو ټولو باندے اګر چه بد ئے ګڼړی مشرکان (۹) اے ایمان وا لو ایا اوخایم تاسو ته یو داسے تجارت چه بچ کوی تاسو لره دَ عذاب درد ناك نه (۱۰) ایمان به راوړئے په اللّٰه تعالیٰ باندے او په رسول دَ هغه باندے او جهاد به کوئے تاسو په لارے دَ اللّٰه تعالیٰ کښ په مالونو خپلو سره او نفسونو خپلو سره دا کار غوره دے تاسو لره که چرے تاسو پوهه لرئے (۱۱) بخنه به اوکړی تاسوته دَ ګناهونو ستاسو او

په طریقه دَ ضد او عناد سره کوی ایت پنځم کښ الفاسقین ذکروؤ ځکه چه زیغ دَ زړونوفِسق دَ عقیدے دے او دلته ئے الظالمین اُوئیل ځکه چه په اول دَ ایت کښ ئے وَمَنْ اَظْلَمُ وئیلے دے۔

[۸] دا هم زجردے په انکاردَ رسول اودَ قرآن سره۔ دائے ذکرکړے دے په طریقه دَ جوابِ سوال سره۔ سوال دا دے چه دوی ظلم کوی اودَ اسلام مقابله په افتراء سره کوی دا دَ څه مقصد دَپاره کوی؟ جواب اوشوچه مقصد دَ دوی اطفاء دَ نور اللّٰه ده ﴿نُوْرَ اللّٰهِ بِاَفْوَاهِهِمْ﴾ مراد دَ نورنه نمردے او کلام په طریقه دَ استعاره تمثیلیه سره دے یعنی دا منکرین چه دَ حق دَ ابطال کوشش کوی دَ دوی مثال دَ هغه شخص دے چه نمرپه پوکو باندے مړکول غواړی یا مراد دَ نورنه قرآن اوتوحید اورسالت دَ اخری نبی ﷺ اواسلام دے اوافواههم نه مراد بے دلیله خبرے اوشبهات واهیه دی ﴿وَلَوْ كَرِهَ الْكٰفِرُوْنَ﴾ په لفظ دَکفرکښ اشاره ده ظلمت ته چه مقابل دَ نور دے یعنی تیاره (ظلمات) خوخوونکی خلق رنړانه غواړی۔

[۹] دا بیان دے دَپاره دَ (مُتِمُّ نُوْرِهٖ) یعنی اتمام دَ نورخپل کوی په رالیږلو دَ دے رسول اوقرآن سره سرهٔ دَصفت دَ غالب کولونه په ټولودینونوباندے ﴿بِالْهُدٰى وَدِيْنِ الْحَقِّ﴾ قرآن اوتوحید یا قرآن اوحدیث یا عقیده اواحکام مراد دی ﴿لِيُظْهِرَهٗ عَلَى الدِّيْنِ كُلِّهٖ﴾ دَ ظهورنه ماخوذ دے په معنیٰ دَ غلبے سره۔ اوغلبه عامه ده که په حجت سره وی اوکه داسے وی چه نوردینونه وی لیکن کمزوری وی لکه په زمانه دَ خلفاء راشدینو کښ چه اوشوه اوکه داسے وی چه بل دین سیوا دَاسلام نه به په مخ دَ زمکه باقی نه وی لکه چه په زمانه دَ نزول دَ عیسیٰ علیه السلام کښ په قرب دَ قیامت کښ به وی۔ یا اظهار په معنیٰ دَ اعلام اودَ اطلاع سره دے یعنی نزول دَقرآن په نبی ﷺ باندے سبب دے دَپاره دَحصول دَعلم په ټولوادیان سماویه اوغیر سماویه باندے۔ ﴿وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُوْنَ﴾هرکله چه هدی او دین حق توحید دے اوانکاردَ توحید ته شرك وئیلے کیږی نودَ دے ایت اختتام ئے په المشرکون سره اوکړو۔

[۱۰،۱۱،۱۲] دادویم خطاب دے مؤمنانوته اوترغیب دے جهادته په ذکر دَ بشارت اخرویه سره او متعلق دے دَ څلورم ایت دَ دے سورة سره ﴿تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ﴾ دا تفسیردَ تجارت دے یعنی دَخرڅوؤنکو(چه مؤمنان دی) دَ طرف نه ایمان اوجهاد بالمال والنفس دے ﴿وَتُجَاهِدُوْنَ﴾ مراد دَ دے نه قتال فی سبیل اللّٰه دے په قرینه دَ څلورم ایت سره ﴿بِاَمْوَالِكُمْ﴾ دَ مال خرچ کولوته اول اوهروخت ضرورت دے په نسبت دَ

يُدْخِلْكُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ وَمَسٰكِنَ طَيِّبَةً فِيْ جَنّٰتِ عَدْنٍ ؕ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿١٢﴾
وَ اُخْرٰى تُحِبُّوْنَهَا ؕ نَصْرٌ مِّنَ اللّٰهِ وَفَتْحٌ قَرِيْبٌ ؕ وَ بَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿١٣﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُوْنُوْۤا
اَنْصَارَ اللّٰهِ كَمَا قَالَ عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ لِلْحَوَارِيّٖنَ مَنْ اَنْصَارِيْۤ اِلَى اللّٰهِ ؕ قَالَ الْحَوَارِيُّوْنَ نَحْنُ
اَنْصَارُ اللّٰهِ فَاٰمَنَتْ طَّآئِفَةٌ مِّنْۢ بَنِيْۤ اِسْرَآءِيْلَ وَ كَفَرَتْ طَّآئِفَةٌ ۚ فَاَيَّدْنَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا عَلٰى
عَدُوِّهِمْ فَاَصْبَحُوْا ظٰهِرِيْنَ ﴿١٤﴾ ع

داخل به کړی تاسو جنتونو ته چه بهیږی لاندے د هغے نه ولے او کورونه د اوسیدلو مزیدار په باغونو د همیشوالی کښ دا کامیابی لویه ده (۱۲) او بل نعمت چه خوښوئے تاسو هغه (چه هغه) مدد دے د طرف د اللّٰه تعالیٰ نه او ګټه نزدے او زیرے ورکړه مؤمنانو لره (۱۳) اے ایمان والو شئے مدد کوؤنکی د دین د اللّٰه تعالیٰ لکه چه وئیلے دی عیسیٰ(علیه السلام) ځوئے د مریم حواریینو ته خپلوته ځوك دی ما سره مدد کوؤنکی (دپاره د نزدیکیدلو) اللّٰه تعالیٰ ته اُوئیل حواریینو مونږ مدد کوؤ د دین د اللّٰه تعالیٰ نو ایمان راوړو یو ډلے د بنی اسرائیلو نه او کفر اوکړو بلے ډلے نو کلك کړل مونږ هغه کسان چه ایمان ئے راوړئے وؤ په دُشمنانو د دوی باندے نو شول هغوی غالب (۱٤)

نفس سره د دے وجے نه اموال ئے مقدم ذکر کړل ﴿ذُنُوْبَكُمْ﴾ هرکله چه ایمان او جهاد دواړه یو ځائے ذکرکړیدی نو ذنوبکم ئے بغیرد مِن نه ذکرکړے دے دَپاره د عموم یعنی ټول ګناهونه په دے بخلے کیږی ﴿فِيْ جَنّٰتِ عَدْنٍ﴾ د اول جناتٍ نه مراد دارالثواب دے چه اللّٰه تعالیٰ د عاموٴمنانو دَپاره تیارکړیدے اومختلفو نعمتونو باندے مشتمل دے اودَ دویم جنات نه مراد باغات د اونوبوتودی یعنی دا مساکن به په باغونو کښ دننه وی او ګیرچاپیریه د دوی نه اونے وی۔

[۱۳] دابشارت دنیویه دے ﴿تُحِبُّوْنَهَا﴾ دلیل دے چه د صحابه کرامو محبت د جهاد او د نصرت الٰهیه او د فتح د حق سره وؤد دُنیا د نور متاع سره د هغوی محبت نه وؤ ﴿وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ﴾اشاره ده چه بشارت دنیویه اخرویه ټول دَایمان په وجه دی۔

[۱٤] دا دریم خطاب دَپاره د تاکید دَحکم د جهاد دے اوپه دیکښ ترتیب دے چه اول اعلان دے د نصرت کولو بیا دعوت کول دی بیا مقابله کول دی د دُشمنانودَ دین سره بیا حصول دَتائید د اللّٰه تعالیٰ دے ﴿لِلْحَوَارِيّٖنَ﴾ نو ﴿فَاٰمَنَتْ طَّآئِفَةٌ﴾ شریبنی وئیلی دی چه دلته تقدیردے یعنی حواریینو دعوت شروع کړو په بنی اسرائیلو کښ نوهغوی خو اول دوه ډلے شوے چاچه ایمان راوړونوهغوی ته نصاریٰ وئیلے کیدل او چا چه کفر اوکړو نو هغوی ته یهود وئیلے کیدل۔ بیا روستودَ رفع د عیسیٰ(علیه السلام) نه اسمان ته، نصاریٰ مختلف شول چا چه اُوئیل چه عیسیٰ(علیه السلام) اللّٰه دے نوهغه یعقوبیه دی چا اُوئیل چه ځوئے د اللّٰه دے دا نسطوریه دی اوځوك په تثلیث باندے قائل شول اوهغه ملکانیه دی اوځوك په توحید باندے پاځه وؤخوپه هغوی کښ هم درے ډلے پیدا شوے مجاهدین، دعوت کوؤنکی اودے دواړو لره خو یهودیانو قتل کړل او راهبان لکه چه سورة حدیدکښ ذکرشویدی دریمه ډله ﴿فَاَيَّدْنَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا﴾تائید اوغلبه د دوی په حجت سره وه اوبیا د دوی غلبه راغله په سبب د بعثت د اخری نبی ﷺ سره۔

سُوْرَةُ الْجُمُعَةِ (٦٢) مَدَنِيَّةٌ (١١٠) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ١١ رُكُوْعَاتُهَا ٢

يُسَبِّحُ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ الْمَلِكِ الْقُدُّوْسِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ ① هُوَ الَّذِيْ بَعَثَ فِي الْاُمِّيّٖنَ رَسُوْلًا مِّنْهُمْ يَتْلُوْا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِهٖ وَيُزَكِّيْهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ ۗ وَاِنْ كَانُوْا

پاکی وائي اللّٰه تعالیٰ لره هغه څیزونه چه په اسمانونو کښ دی او هغه څیزونه چه په زمکه کښ دی بادشاه دے ډیر پاك دے زوراور دے حکمتونو والا دے (١) خاص اللّٰه تعالیٰ هغه ذات دے چه اولیږلو ئیے په ان پرو کښ رسول دَ دوی دَ جنس نه بیانوی په دوی باندے اٰیاتونه دَ اللّٰه تعالیٰ او خائي دویته پاك اخلاق او تعلیم ورکوی دوی ته دَ قران او دَ سنت اګر چه دوی وؤ

سورة الجمعة

ربط: دَ دے سورة دَ مخکښ سورة سره په ډیرو وجوهو سره دے اوله وجه دا ده چه په هغه سورة کښ ذکر دَ زیغ دَ زړونو دَ یهودیانو وؤ نو په دے سورة کښ ذکر دَ اثرِدَ زیغ دَ هغوی دے۔ دویمه وجه داچه په مخکښ سورة کښ ترغیب وؤ جهاد ته نو په دے سورة کښ زجردے ما نعینو دَ جهاد ته ۔

دعویٰ دَ سورة: رد دے په درے دعوؤ دَ یهودیانوسرهٔ دَ رد دَ شرك فی العلم و التصرف نه او دَ هغے دَپاره ئیے نهه اسماء حسنیٰ ذکر کړیدی۔

خلاصه دَ سورة: اول ذکردَ توحید دے په تسبیح سره بیا صدق دَ رسول دے په درے اٰیاتونو کښ بیا رد دے په اوله دعویٰ دَ یهودیانو باندے چه په فخر سره ئیے وئیل چه مونږ علماء یو او تاسو امیان یئی دَ هغے جواب په (٥) کښ دے چه بے عمله عالم خوپشان دَ خر وی ۔ دویم رد دے په دویمه دعویٰ باندے دوی فخر کوؤ چه مونږ اولیاء اللّٰه یو جواب اوشو په درے اٰیاتونو کښ په دعوت دَ مباهلے سره ۔ دریم فخرکول وو دَ دوی په یوم السبت سره دَ هغے جواب اوشو په ذکر دَ عظمت دَ ورځ دَ جمعے سره په خطبه او صلوٰة سره۔ بیا ترغیب دے حلال کسب ته روستو دَ فارغ کیدلو دَ مونځ دَ جمعے نه او ترغیب دے اوریدلو دَ خطبے ته او پریخودل دَ مال وتجارت وغیره دَ دُنیا۔

تفسیر

[١] په دے کښ دعویٰ دَ توحید ده په ذکردَ تسبیح سره اوپه تسبیح کښ په دے خاص تعبیرسره اشاره ده چه اللّٰه تعالیٰ مَلِك دے نودَ رعیت (چه دا امت دے) دَ اصلاح دَپاره ئیے اخری رسول را اولیږواو قُدُّوس دے یعنی په هغه باندے اعتراض نیشته په تشبیه ورکولودَ بے علمه مُلیانودَ حمار سره او(عَزِیز) دے ویره نه کوی دَچا دَ دعوے دَ ولایت نه په دروغه سره او (حَکِیم) دے په مقررکولودَ ورځ دَ جمعے کښ دَپاره دَ خاص عبادت۔

مِنْ قَبْلُ لَفِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ۙ﴿۲﴾ وَّاٰخَرِيْنَ مِنْهُمْ لَمَّا يَلْحَقُوْا بِهِمْ ؕ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿۳﴾ ذٰلِكَ فَضْلُ
اللّٰهِ يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ﴿۴﴾ مَثَلُ الَّذِيْنَ حُمِّلُوا التَّوْرٰىةَ ثُمَّ لَمْ يَحْمِلُوْهَا كَمَثَلِ

مخکښ دَ دے نه خامخا په ګمراهئ ښکاره کښ (۲) او نور خلق (روستو) دَ دوی نه چه نه دی رسیدلی هغوی ته په مرتبه کښ او خاص اللّٰه تعالیٰ زوراور حکمتونو والا دے (۳) دا فضل دَ اللّٰه تعالیٰ دے ورکوی ئیے هغه چا ته چه اوغواړی او اللّٰه تعالیٰ خاوند دَ فضل لوئے دے (٤) مثال دَ هغه کسانو چه ورکړے شویده (ذمه واری) دَ تورات بیا ذمه واری ئیے نه ده ادا کړے پشان دَ حال

[۲] روستودَ توحید نه صدق دَ رسول ﷺ ذکرکوی او اشاره ده چه تسبیح دَ انسانانو اللّٰه تعالیٰ لره په طریقه دَ رسول سره ضروری ده ﴿فِي الْأُمِّيّٖنَ﴾ اُمّی په اصل کښ هغه چاته وئیلے کیږی چه نه ئیے لوستل کړے وی او نه لیکل ورځی یعنی هغه څوك چه اسمانی کتاب هغوی له نه وؤ ورکړے شوے نو هغه دا ټول عرب دی۔ او په امیین (عرب) کښ رالیږل پدے طریقه سره دی چه دَ عربو په هره قبیله کښ دَ نبی ﷺ قرابت دَ پلار یا دَ مور دَ طرف نه موجود وؤ ما سیوا دَ بنی تغلب نه ځکه چه په هغوی کښ نصرانیت وؤ۔او په عرب (امیین) کښ دَ بعثت حکمت دا دے چه دَ هغوی نسب دَ عجمو دَ ټولو نسبونونه اوچت دے اوبیا قریش اوپه هغوی کښ بنی هاشم خودَټول عالم دَ خاندانونو اوقبیلونه اوچت دی ﴿رَسُوْلًا مِّنْهُمْ﴾ رسول دَ جنس دَ دوی نه دے یعنی بشر دے او دا هم صریح نص دے په رسالت او په بشریت دَ نبی ﷺ باندے نو دَ دے نه انکار یا په دے کښ شك کول هم کفر دے لکه چه الوسی په تفسیر روح المعانی کښ دَ سورة العمران په تفسیرکښ داسے تفصیل لیکلے دے ﴿وَيُزَكِّيْهِمْ﴾ مراد دَ دے نه طریقه خودل دَ اعمالو او اخلاقو ده دَ هغے اوقات، مقادیر، کیفیات اوهیئات خودل اودا مرتبه دَ عمل کولواودَ عمل خودلو ده چه هغه مقصد دَ دعوت اودَ تعلیم دے اودَ دے وجے نه تزکیه ئیے په مینځ دَ دعوت اودَ تعلیم کښ ذکرکړیده چه دا اصل مقصود دے اودیته علم التزکیه اوعلم الاخلاق وئیلے کیږی لیکن دیته تصوف اودَصوفیت نوم کیخودل صحیح نه دی ځکه چه منقول شرعی نوم پریخودل اوغیرمنقول نوم استعمالول دَشرعے نه خلاف کارکول دی ﴿وَاِنْ كَانُوْا مِنْ قَبْلُ لَفِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ﴾ دا صریح دلیل دے چه بغیرد ایمان اوتابعدارئے دَ رسول نه ټولے لارے دَ ګمراهئی دی او دا رنګ دَ هرے ګمراهئی نه دَ نجات ذریعه صرف تابعداری دَ قرآن او دَ سنت دَ نبی ﷺ ده۔

[۳] مراد دَ ﴿اٰخَرِيْنَ﴾ نه تمام هغه مؤمنان دی که عرب وی اوکه عجم وی چه دَ صحابه کرامونه روستو دی تابعین او تبع تابعین اونورمؤمنان ترقیامته پورے۔ یا مراد عجمیان دی چه ایمان ئے راوړے دے په رسول اللّٰه ﷺ باندے ترقیامته پورے ﴿لَمَّا يَلْحَقُوْا بِهِمْ﴾ دَ دے هم دوه توجیه دی اوله دا چه نه وؤ په زمانه دَ هغوی کښ خوپه هغوی پسے راځی، دویمه توجیه داده چه نه دی یوځائے شوی دَ صحابه کراموسره په فضیلت اومرتبه کښ۔ اوپدے کښ اشاره ده چه یوتابعی اګرچه لوے علم اوتقویٰ والا وی دَ یو ادنیٰ صحابی مرتبے ته نشی رسیدلے۔

[٤] پدیکښ رد دے په یهودیانوباندے چه هغوی رسالت پخپل قوم پورے خاص ګڼلو۔ذٰلِكَ اشاره ده

الْحِمَارِ يَحْمِلُ اَسْفَارًا ؕ بِئْسَ مَثَلُ الْقَوْمِ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِى الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ۝٥
قُلْ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ هَادُوْۤا اِنْ زَعَمْتُمْ اَنَّكُمْ اَوْلِيَآءُ لِلّٰهِ مِنْ دُوْنِ النَّاسِ فَتَمَنَّوُا الْمَوْتَ اِنْ كُنْتُمْ
صٰدِقِيْنَ ۝٦ وَلَا يَتَمَنَّوْنَهٗۤ اَبَدًا ۢ بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْهِمْ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِالظّٰلِمِيْنَ ۝٧ قُلْ اِنَّ الْمَوْتَ

دَ خر دے چه پورته کوی کتابونه بد دے مثال دَ هغه قوم چه دروغژن ګڼړی اياتونه دَ اللّٰه تعالیٰ او اللّٰه تعالیٰ هدايت نه کوی قوم ظالمانو ته (٥) ته اُوايه اے يهوديانو که چرے تاسو دعویٰ کوئے چه يقيناً تاسو دوستان دَ اللّٰه تعالیٰ ئے سيوا دَ نورو خلقو نه نو اوغواړئے مرګ که چرے تاسو ئے رشتينی (٦) او نه غواړی دوی مرګ هيڅرے په وجه دَ هغه عملونو چه مخکښ ليږلی دی لاسونو دَ دوی او اللّٰه تعالیٰ عالم دے په ظالمانو باندے (٧) ته اُوايه يقيناً هغه مرګ

بعثت دَ رسول اللّٰهﷺ ته په امیین کښ يا مطلق وحی اونبوت ته۔

[٥] روستودَ اثبات دَصدق دَرسول نه زجردے منکرينودَ دغه رسول ته سرهٔ دَعلم نه اوپديکښ رد دے دَ اولے دعوے دَ يهوديانو هغه داچه دوی وئيل چه تاسو اُمیین ئے او مونږ علماء او اهل کتاب يونو مونږ ستاسو نه غوره يو نومونږ باندے لازم نه ده چه رسول امّی باندے ايمان راوړو حاصل دَ رد دا دے چه عالم بے عمله خودَ خرپشان دے دَ هغه هيڅ غوره والے نيشته ﴿كَمَثَلِ الْحِمَارِ يَحْمِلُ اَسْفَارًا﴾ دَ مثال تفصيل دا دے لکه خرباندے دَغتو کتابونو بوج کيخودلے شی نوبه مَلا باندے بوج وی او ډډے ورله زخمی کوی او فائِده ترينه هيڅ نشی اخستلے او کله دَ جهل دَ وجے نه دَ لارے په مينځ کښ لټ شی نولاره بنده کړی نودا رنګ هغه عالم دَکتاب دَ اللّٰه تعالیٰ چه دَ هغے حفظ کوی اوپه لوستلو کښ ئے تکليفونه تيروی ليکن عمل ورباندے نه کوی نو بوج او تکليف ورباندے ډير دے اوفائِده ئے هيڅ نيشته نه په دنياکښ اونه په اخرت کښ او داسے عالم کله دَ ضد او دَحسد دَ وجے نه دَحق والوسره مقابلے کوی اوپه حق لارکښ رکاوټ هم پيداکوی ﴿اَسْفَارًا﴾ جمع دَ سفره غټ کتاب ته وئيلے کيږی اشاره ده چه دالوئے ملّا دے ليکن بے عمله دے دا ايت دَ عموم دَ الفاظو په وجه سره دَ دے امت بے عمله عالمانو ته هم شامل دے بلکه ابن قيم رحمه اللّٰه په اعلام الموقعين کښ وئيلی دی چه هغه چاته هم شامل دے چه حفظ دَ قرآن کوی ختمونه ئے کوی ليکن هيڅ تدبر اوفکر پکښ نه کوی او اتباع ئے نه کوی اوفيصلے ورباندے نه کوی اونه ئے په مطلب ځان پوهوی ﴿بِئْسَ مَثَلُ﴾ يعنی دا مثال په اصل کښ دَ مکذبينو دَ کتاب اللّٰه دَپاره دے چه په تورات کښ ذکرَ دَ خاتم النبين شته اودوی انکارکوی اوپه قرآن کښ توحيد شته او دوی انکارکوی ليکن انکاراوتکذيب دَ يهوديانواودَ هغوی پشان دَ علماء سوء په طريقه دَ تحريف او تلبيس اوکتمان سره دے په صريح انکار سره نه دے۔

[٦،٧] په دے کښ رد دے په دويمه دعویٰ دَ يهوديانوباندے هغه داده چه دوی وئيل تاسوزمونږبدی ولے ذکرکوئے په مثال ورکولودَ حمارسره مونږ دَ اللّٰه تعالیٰ اولياء(دوستان) يو۔ نودَ دے دعوے تردیدکوی په دعوت دَ مباهَلے سره ﴿فَتَمَنَّوُا الْمَوْتَ﴾ ابن کثير وئيلی دی چه دُعا دَ مرګ اوغواړئے په ګمراه باندے دَ دواړه فريقونه اوپه سورة بقره کښ هم ابن کثير دا تفسير کړے دے اوابن قيم هم په بدائع التفسير کښ په سورة بقره

الَّذِیْ تَفِرُّوْنَ مِنْهُ فَاِنَّهٗ مُلٰقِیْكُمْ ثُمَّ تُرَدُّوْنَ اِلٰى عٰلِمِ الْغَیْبِ وَالشَّهَادَةِ فَیُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ
تَعْمَلُوْنَ ۝٨ یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْۤا اِذَا نُوْدِیَ لِلصَّلٰوةِ مِنْ یَّوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا اِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ وَ ذَرُوا
الْبَیْعَ ؕ ذٰلِكُمْ خَیْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ۝٩ فَاِذَا قُضِیَتِ الصَّلٰوةُ فَانْتَشِرُوْا فِی الْاَرْضِ وَابْتَغُوْا

چه تاسو تیخته کوئے دَ هغے نه یقیناً هغه ستاسو مخے له راتلونکے دے بیا به اوگرځولے شئے تاسو هغه ذات ته چه عالم دے په هر پټ او ښکاره باندے نوخبر به درکړی تاسو لره په هغه عملونو باندے چه تاسو ئے کوئے (٨) اے ایمان والو کوم وخت چه اواز او کړے شی د پاره دَ مونځ دَ ورځ دَ جمعے نه نو زرځان اورسوئے ذکر دَ اللّٰه تعالیٰ ته او پریګدئ خرڅول دا کار غوره دے تاسو لره که چرے تاسو پوهیږئ (٩) نو هر کله چه پوره کړئے مونځ نو خواره شئے په ملك کښ او اولټوئے

کښ دا توجیه ذکر کړے ده اودا مباهله ده دَ یهودیانوسره اوپه سورة العمران (٦١) کښ مباهله دَ نصاریٰ سره ده او په سورة مریم (٧٥) کښ مباهله دَ مشرکینوعاموسره ده۔

[٨] په دے کښ تخویف دے ﴿تَفِرُّوْنَ﴾ مراد دَ فرارنه دَ مرګ تمنانه کول دی اودارنګ هر انسان چه میدان قتال نه تیخته کوی دَمرګ دَ ویرے نه یا چه په یومقام اوعلاقه کښ دَطاعون وباوی نودَمرګ دَ ویرے دَوجے نه دَ هغے نه تیخته کوی نوهغه هم په دے کښ داخل دی ﴿ثُمَّ تُرَدُّوْنَ﴾ پدیکښ بعث بعد الموت مراد دے اوثُمَّ دلالت کوی چه په مینځ دَمرګ اودَ قیامت کښ دِیره موده شته چه هغه حالتِ برزخیه دے یا مراد دَ دے رد نه سوال او عذاب دَ قبر دے اوثم دَپاره دَ ترتیب دے بغیرد تاخیرنه۔

[٩] ربط دَ دے ایت دَ ماقبل سره په دِیرو وجوهو سره دے یو داچه دارد دے دَ یهودیانو په دریمه دعویٰ باندے چه دوی فخر کوؤ چه زمونږ دَپاره ورځ دَخالی دَ تعظیم شته اوتاسو دَ هغے تعظیم نه کوئے ؛ حاصل جواب دا دے چه زمونږ دَپاره هم ورځ دَ تعظیم شته چه ورځ دَ جُمعے ده او دا دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه انتخاب دے او ستاسو ورځ دَ خالی خو ستاسو خپل انتخاب دے او بیا درباندے اللّٰه تعالیٰ دَ هغے تعظیم فرض کړو لکه چه سورة نحل (١٢٤) کښ ذکردی اوتاسودَ هغے نه خلاف اوکړو ﴿اِذَانُوْدِیَ لِلصَّلٰوةِ﴾ مراد دَ نداءِ نه نداءِ شرعی ده چه هغه اذان شرعی دے (فتح الباری) او مراد دَ دینه هغه اذان دے چه کله خطیب په منبر باندے کینی نو دَ هغه مخے ته وئیلے کیږی او امام بخاری اونورو محدثینوذکرکړیدی چه دَ نبی ﷺ او ابوبکر او عمر رضی اللّٰه عنهما په زمانه کښ اول اذان دَ جمعے هغه وخت وئیلے کیدو چه خطیب به په منبر باندے کیناستلو او حدیث دَ ابو داؤد کښ دی چه دا اذان په دروازه دَ مسجد کښ دَ امام مخامخ وئیلے کیدلو۔ هرکله چه دَ عثمان ﷺ په زمانه کښ خلق دِیرشول نو بل اذان ئے زیات کړو دَ مسجد نه بهر دَ یوکور دَ پاسه چه هغے ته زوراء وئیلے کیدلو او مؤرخینولیکلی دی چه هشام بن عبدالملك دا اذانِ عثمانی بیا په مسجد کښ داخل کړو نو په دے ایت کښ په اتفاق سره مراد دَ اذان نه اذان دَ خطبے دے اګر چه اذان عثمانی هم سنت دَ خلیفه دے هغے ته شرعاً بدعت نه وئیلے کیږی ﴿فَاسْعَوْا اِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ﴾ (سوال) سعی منډه وهلوته وئیلے کیږی اوپه حدیث صحیح کښ خومنع شویده چه څوك دے مونځ کولو دَ پاره منډے نه وهی پخپل عادت سره دِ رفتار کوی؟ جواب: سعی نه مراد دلته کوشش کول او اهتمام کول اوتیارے کول دی او حسن بصری نه روایت

مِنْ فَضْلِ اللّٰهِ وَ اذْكُرُوا اللّٰهَ كَثِيْرًا لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ۝۱۰ وَ اِذَا رَاَوْا تِجَارَةً اَوْ لَهْوًا انْفَضُّوْٓا
اِلَيْهَا وَتَرَكُوْكَ قَآئِمًا ؕ قُلْ مَا عِنْدَ اللّٰهِ خَيْرٌ مِّنَ اللَّهْوِ وَمِنَ التِّجَارَةِ ؕ وَاللّٰهُ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ ۝۱۱ ع ۱۲

دَ فضل دَ اللّٰه تعالیٰ نه او یادوئے اللّٰه تعالیٰ لره ډیر دَ دے دپاره چه کامیاب شئے (۱۰) او هر کله چه دوی اُوینی تجارت یا لوبے نو روان شی دوی هغے ته او پریګدی تا لره اولاړ ته اُوایه هغه ثواب چه دَ اللّٰه تعالیٰ سره دے غوره دے دَ لوبو او دَ تجارت نه او اللّٰه تعالیٰ غوره دے دَ روزئے ورکوؤنکو نه (۱۱)

دے چه دے ته سعی بالقلب والنیة وئیلے کیږی۔ نوپه فَاسعَوا کښ هغه اعمالوته اشاره ده کوم چه دَ صلوٰة جمعے دَتیارئ دَپاره په سنت سره ثابت دی لکه غسل کول، خوشبولګول، مسواك کول، پاکے جامے اغوستل، دَ وخته مسجدته تلل، امام ته نزدے اودریدل وغیره ﴿ذِكْرِ اللّٰهِ﴾ مراد دَ دے نه اوله خطبه ده او بیا صلوٰة دے دَ دواړو په مینځ کښ بل عمل نیشته دے۔ او ذکر دَ اللّٰه تعالیٰ عام دے قرآن لوستل، حدیث ذکرکول، خلقو ته دَ دین دَ اللّٰه تعالیٰ احکام بیانول، مونځ کول داټول ذکر دَ اللّٰه ته شامل دی اوپه ټولوکښ سنت طریقه شرط ده ﴿وَذَرُوا الْبَيْعَ﴾ مراد دَ دے نه هرهغه شغل دے چه منع کوؤنکے دے خطبے ته دَ رسیدلواو اوریدلونه لکه غفلت ملازمت، زمینداری، تجارت ټول پکښ داخل دی او تخصیص دَ بیع ئے دَ دے وجے نه اوکړه چه دَ جمعے په ورځ اکثرخلق دَ باندونه راغلی وی هغه په سودا اخستوکښ مشغولیږی نوخرخوؤنکوته اُوئیلے شول چه تاسو خرخول پریږدئے نوچه بیع نه وی نو شراء هم نشی کیدلے۔

[۱۰] په دے کښ اشاره ده فرق ته په مینځ دَ احترام دَ ورځ دَ جُمعے په دین زمونږکښ او احترام دَ سبت په نیزدَ یهودیانو چه په هغوی باندے دَ سبت ټوله ورځ کښ کار دَ دنیا حرام وؤ او زمونږپه دین کښ روستودَ فراغ دَ مونځ دَ جُمعے نه امردے په تجارت اوطلب دَ روزئے سره۔ قاسمی وئیلی دی چه روستودَ مونځ دَجُمعے نه څلور رکعته دَ ماسپخین (چه هغے ته اختیاطی مونځ وئیلے کیږی) دا مذهبی تعصب اوبے دلیله عمل دے ﴿فَانْتَشِرُوْا فِي الْاَرْضِ﴾ مراد په امر سره وجوب دَ انتشارنه دے بلکه مخالفت کول دی دَ اهل کتاب نه په تعطیل دَ ورځ دَ خالی او اتوار کښ﴿وَابْتَغُوْا مِنْ فَضْلِ اللّٰهِ﴾ عام دے تجارت کول، عیادت دَ بیمار، ملاقات دَ رور مسلمان اوطلب دَ علم ټولوته شامل دے ﴿وَاذْكُرُوا اللّٰهَ كَثِيْرًا﴾ مراد دا چه هیڅ وخت دَ اللّٰه تعالیٰ دَیاداشت نه غفلت مه کوئے په ژبه او په زړه اوپه طاعت سره اومونځ دَمازیګرته هم اشاره ده اوډیروالے دَ ذکرپه توحید اواخلاص اوموافق دَسنت سره راځی۔

[۱۱] په دے کښ زورنه ده په یوعمل سره چه دَ صحابه کرامونه صادر شوے وؤ چه دَ خطبے دَ نبی ﷺ په وخت کښ هغوی تجارتی سامان ته خواره شول صرف دولس کسان پاتے شول۔ داخوپه هغه وخت کښ ګناه نه وؤځکه چه دَ دغه نه مخکښ اللّٰه تعالیٰ داسے حکم نه وؤ رالیږلے لیکن تنبیه شوه دَ ائنده وخت دَپاره۔ نوپه دے کښ اشاره ده چه اوریدل دَ خطبے دَجمعے واجب دی ﴿قُلْ مَا عِنْدَ اللّٰهِ خَيْرٌ﴾ یعنی هغه اجر اوثواب چه په اوریدلو دَ خطبے اوپه جماعت سره مونځ اداکولوکښ دے یا هغه رزق چه په شرعی طریقے سره حاصل کړیشی هغه غوره دے ﴿وَاللّٰهُ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ﴾ اشاره ده چه روزی په اختیاردَ اللّٰه تعالیٰ کښ ده نودَ هغه په طاعت سره به غوره روزی حاصلیږی۔

سُوْرَةُ الْمُنٰفِقُوْنَ (٦٣) مَدَنِيَّةٌ (١٠٤) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ١١ رُكُوْعَاتُهَا ٢

وقف لازم

اِذَا جَآءَكَ الْمُنٰفِقُوْنَ قَالُوْا نَشْهَدُ اِنَّكَ لَرَسُوْلُ اللّٰهِ ۘ وَ اللّٰهُ يَعْلَمُ اِنَّكَ لَرَسُوْلُهٗ ؕ وَ اللّٰهُ يَشْهَدُ اِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ لَكٰذِبُوْنَ ۝١ اِتَّخَذُوْۤا اَيْمَانَهُمْ جُنَّةً فَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ اِنَّهُمْ سَآءَ مَا كَانُوْا

هر کله چه راشی تاته منافقان دوی وائي ګواهی کوؤ مونږ چه یقیناً ته خامخا رسول دَ اللّٰه تعالیٰ ئیے او اللّٰه تعالیٰ پوهه دے چه یقیناً ته خامخا رسول دَ هغه ئیے او اللّٰه تعالیٰ ګواهی کوی چه یقیناً منا فقان خامخا دروغژن دی (١) ګرځولی دی دوی قسمونه خپل ډال نو منع شول (منع کوی) دَ لارے دَ اللّٰه تعالیٰ نه یقیناً دوی بد دی هغه

سورة المنافقون

ربط: دَ دے سورۂ دَماقبل سره په ډیرو وجوهو سره دے یو وجه دا ده چه په سورۂ جمعه کښ رد وو په دروغو دَ یهودیانو باندے نو په دے سورۂ کښ رد دے په دروغو دَ منافقانو باندے۔

دعویٰ دَ سورۂ: زجردے په منافقانو باندے په منع کولوسره دَ انفاق نه خصوصاً اوپه نوروقبائحوسره عموماً۔

خلاصه دَ سورۂ: رد دے اولاًپه شهادت دَ رسالت باندے په دروغه سره اوبیا اتلس قبائح دَ هغوی ذکرکوی۔ اوبیا منع کوی مؤمنانولره دَ تشبیه دَ منافقانونه په اشتغال دَ مال اواولاد سره اوترغیب دے انفاق کولوته مخکښ دَ راتللودَ مرګ نه۔

تفسیر

[١] په دے ایت کښ تعریف دَ منافق ته اشاره ده چه مخامخ شهادت دَ حق کوی او په باطن کښ منکروی اودَ هغوی یو وصف ذکرکوی یعنی دوی دروغ وائي ﴿قَالُوْا نَشْهَدُ﴾ شهادت شرعیه موافقت دَ زړه او دَ ژبے دے لیکن دوی چه داکلمه وئیله نوصرف مشابهت ئیے کوؤدَ مؤمنانوسره چه هغوی اَشْهَدُ او نَشْهَدُ وائي یا مراد دَ دوی دَ شهادت نه قسم کول دی ﴿وَاللّٰهُ يَعْلَمُ﴾ دا جمله معترضه ده دَپاره دَ دفع کولودَ وهم، هغه دا دے چه روستو جمله کښ اللّٰه تعالیٰ دَ دوی تکذیب کړے دے نو ایا داپیغمبرد اللّٰه تعالیٰ رسول نه دے؟ نوجواب اوشوچه یقیناً دے دَاللّٰه تعالیٰ رسول دے ﴿وَاللّٰهُ يَشْهَدُ اِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ لَكٰذِبُوْنَ﴾ دَ دے وجه دا ده چه دلته دَ کاذبون نه مراد کذب په دے جمله کښ مراد ندے چه اِنَّكَ لَرَسُوْلُ اللّٰهِ بلکه دَ دے ایت په تفسیرکښ مفسرینو واقعه لیکلے ده چه دوی وئیلی وؤچه لَيُخْرِجَنَّ الْاَعَزُّ مِنْهَا الْاَذَلَّ، (لکه چه روستوبه راشی) لیکن هرکله چه دوی دَ رسول اللّٰهﷺ مخے له راغلل نودوی قسمونه کول چه مونږدا وینا نه ده کړے نوانکار ئیے دَ خپل قول نه اوکړو نودا ئیے کذب دے۔

يَعْمَلُوْنَ ۝٢ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ اٰمَنُوْا ثُمَّ كَفَرُوْا فَطُبِعَ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ فَهُمْ لَا يَفْقَهُوْنَ ۝٣ وَاِذَا رَاَيْتَهُمْ تُعْجِبُكَ
اَجْسَامُهُمْ ؕ وَاِنْ يَّقُوْلُوْا تَسْمَعْ لِقَوْلِهِمْ ؕ كَاَنَّهُمْ خُشُبٌ مُّسَنَّدَةٌ ؕ يَحْسَبُوْنَ كُلَّ صَيْحَةٍ عَلَيْهِمْ ؕ هُمُ
الْعَدُوُّ فَاحْذَرْهُمْ ؕ قٰتَلَهُمُ اللّٰهُ ۚ اَنّٰى يُؤْفَكُوْنَ ۝٤ وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ تَعَالَوْا يَسْتَغْفِرْ لَكُمْ رَسُوْلُ اللّٰهِ

عملونه چه دوی کوی (٢) دا په دے وجے سره چه دوی ایمان راوړے دے بیائے کفر کړے دے نو مهر وهلے شویدے په زړونو دَ دوی باندے نو دوی نه پوهیږی (٣) او هر کله چه ته اُوینے دوی لره نو په تعجب کښ به واچوی تا لره تنے دَ دوی او که چرے دوی وینا کوی نو غوږ به کیدے ته وینا دَ دوی ته گویا چه دوی لرگی دی اړم کړے شوی دیوال ته گمان کوی دوی دَ هرے چغے په ځان باندے هم دوی پوره دُشمنان دی نو ځان اوساتئے دَ دوی نه تباه دِ کړے دوی لره اللّٰه تعالیٰ نوځه رنگ اړولے شی دوی (دَ حق نه) (٤) او کوم وخت چه اُوئیلے شی دوی ته راشئے چه بخنه او غواړی تاسو لره رسول اللّٰه(ﷺ)

[٢] پدیکښ دَ دوی درے خصلتونه ذکر کوی ﴿اَيْمَانَهُمْ﴾ هر کله چه نشهد ئے وئیل په نیت دَ قسم سره او دا قسم دے لکه چه دَ اکثر اهل علم مذهب دے دَ دے وجے نه په دے ایت کښ دَ هغے نه تعبیر او کړے شو په اَیمَانٌ سره ﴿جُنَّةً﴾ لکه چه په ډال سره انسان ځان دَ گذار دَ تورے اونیزے وغیره نه بچ کوی نو دارنگ دوی په دے قسمونو سره ځان دَ سزا دنیوی او دَ قتال او دَ مؤمنانو دَ زورنے نه بچ کوی۔

[٣] په دے ایت کښ دَ دوی درے اوصاف ذکر کوی ﴿بِاَنَّهُمْ اٰمَنُوْا ثُمَّ كَفَرُوْا﴾ مراد دَ دے نه یوځل ایمان او کفرنه دے بلکه کثرت اوتکرارمراد دے یعنی هروخت ایمان ښکاره کوی نوبیا دَکفرکارکوی نوبیا بیا داسے کوی ﴿فَهُمْ لَا يَفْقَهُوْنَ﴾ فقاهت هغه علم دے چه په هغے سره دَ حق اوباطل تمیزکیږی او منافق دَ دے نه محروم دے۔

[٤] په دے ایت کښ پنځه اوصاف دَ منافقانوذکردی ﴿تُعْجِبُكَ اَجْسَامُهُمْ﴾ یعنی دَ دوی بدنونه غټ دی اوصحت والادی مقصد داچه دوی هروخت دَ بدن په اصلاح کښ اوپه قسم قسم خوراکونوکښ مشغول دی غذاءِ روحانی ته توجه نه کوی ﴿تَسْمَعْ لِقَوْلِهِمْ﴾ یعنی دوی دَ دنیا په خبروکښ ډیرفصیح بلیغ دی اوریدونکوکښ کشش پیداکوی ﴿كَاَنَّهُمْ خُشُبٌ مُّسَنَّدَةٌ﴾ داسے لرگے چه دیوال ته اودرولے شوے وی نوهغه بے فائدے وی، دننه ډډ وی (یعنی مینځ ئے تش وی) کمزورے وی اویوطرف ئے لوند اوبل طرف ئے اوچ وی۔ دَ ابادئے اودَ فائدے دَ ځیزونوجوړولودَپاره صلاحیت نه لری او ظاهرکښ غټ خائسته ښکاری نودغسے حال دَمنافق دے یعنی دَ دهٔ بدن هم غټ وی ټول اهتمام دَبدن په ځربولوباندے کوی او باطن ئے خراب وی ﴿يَحْسَبُوْنَ كُلَّ صَيْحَةٍ عَلَيْهِمْ﴾ په دے کښ اشاره ده چه سرهٔ دَغټ والی دَ بدنونو او دَ چالاکیٔ دَ ژبے نه ډیربزدل دی۔ صَيْحَة: اعلان، عذاب، ایاتونه دَ تخویف دُنیوی اواخروی، زواجر، دے ټولوته صیحه شامل ده ﴿قٰتَلَهُمُ اللّٰهُ﴾ دا جمله خبریه پخپله معنیٰ سره ده یا په معنیٰ دَ دُعا ده اومراد دَ دے نه لعنت اوهلاکت دے ځکه چه قتال دَ اللّٰه تعالیٰ سره مستلزم دے دَ هغه تباهیٔ او لعنت لره۔

لَوَّوْا رُءُوْسَهُمْ وَرَاَيْتَهُمْ يَصُدُّوْنَ وَهُمْ مُّسْتَكْبِرُوْنَ ۝۵ سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ اَسْتَغْفَرْتَ لَهُمْ اَمْ لَمْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ ؕ
لَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لَهُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ۝۶ هُمُ الَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ لَا تُنْفِقُوْا عَلٰى
مَنْ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ حَتّٰى يَنْفَضُّوْا ؕ وَلِلّٰهِ خَزَآئِنُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَلٰكِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ لَا يَفْقَهُوْنَ ۝۷
يَقُوْلُوْنَ لَئِنْ رَّجَعْنَاۤ اِلَى الْمَدِيْنَةِ لَيُخْرِجَنَّ الْاَعَزُّ مِنْهَا الْاَذَلَّ ؕ وَلِلّٰهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُوْلِهٖ وَ
لِلْمُؤْمِنِيْنَ وَلٰكِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝۸ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُلْهِكُمْ اَمْوَالُكُمْ وَلَاۤ اَوْلَادُكُمْ ع ۲

واړوی دوی سرونه خپل او اُوینے به ته دوی لره چه مخ اړوی او دوی لوئي کوؤنکی دی (۵) برابره خبره ده په دوی باندے که ته بخنه غواړے دوی لره یا بخنه نه غواړے دوی لره هیڅرے بخنه نه کوی الله تعالیٰ دوی ته یقیناً الله تعالیٰ هدایت نه کوی قوم ډیر نافرمانو ته (٦) دوی داسے خلق دی چه دوی وائي خرچ مه کوئے په هغه چا چه دَ رسول الله(ﷺ) سره دی تردے پورے چه خواره واره شی او خاص الله تعالیٰ لره خزانے دی دَ اسمانونو او دَ زمکے او لیکن منافقان نه پوهیږی (۷) دوی وائي که چرے واپس شو مونږ مدینے ته ضرور اوبه باسی عزتمند دَ هغے نه ذلیل لره او خاص الله تعالیٰ لره صفت دَ عزت دے او رسول لره (صفت دَ عزت دے) او مؤمنانو لره (صفت دَ عزت دے) او لیکن منافقان نه پوهیږی (۸) اے ایمان والو غافل دِ نکړی تاسو لره مالونه ستاسو او نه اولاد ستاسو

[۵] په دے ایت کښ درے اوصاف دَهغوی ذکرکوی اودلالت کوی په اصرارکولودَ دوی په ګناه باندے۔﴿وَهُمْ مُّسْتَكْبِرُوْنَ﴾ استکبارکښ معنیٰ دَ تحقیراودَ سپك ګنړلوده یعنی رسول الله ﷺ ته راتلل او دَ هغه دُعا غوښتل سپك ګنړی او دا صریح کفر دے۔

[٦] په دے کښ دَ دوی یو وصف ذکرکوی یعنی هرکله چه ذکر شوه چه دوی بښکاره کفرکوی او استغفارهم نه غواړی نودَ داسے انسان دپاره دُعا دَ نبی ﷺ هم فائده نه ورکوی۔

[۷] په دے ایت کښ دَ دوی دوه وصفونه ذکرکوی اوپه مینځ کښ ردکوی دَ دوی په قول باندے ﴿مَنْ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ﴾ دا قول دَمنافقانودے ځکه چه دوی به ظاهراً هغه ته رسول وئیلویا دا تعبیرد الله تعالیٰ دے دَ دوی دَ ډیرتقبیح دپاره یعنی دَ رسول الله دَخوانه خلق شړل خوډیره لویه بد اخلاقی ده ﴿حَتّٰى يَنْفَضُّوْا﴾ یعنی دَ لوګے دَ وجے نه به لاړشی اوخواره به شی اودا دَ دُنیاپرستواودَ جاهلانوطریقه ده چه هرڅیزصرف په ظاهری اسبابوپورے ترې اودَ الله تعالیٰ دَ ربوبیت اوالوهیت نه غافل وی ﴿وَلِلّٰهِ خَزَآئِنُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ﴾ دا رد دے دَ دوی په قول اوپه دغه عقیده باطله باندے۔ مراد دا دے چه دَ روزئ اودَ هغے دَ اسباب(چه بارانونه او اونے بوټی وغیره دی) ټول په اختیاردَ الله تعالیٰ کښ دی او هغه بے انتهاء خزانے دی چه نه کمیږی۔

[۸] په دے ایت کښ دوه اوصاف دَ منافقانو دی۔ تیرشوی ایت کښ معلومه شوه چه دوی په مال سره بخل کوی نو په دے ایت کښ ذکرکوی چه مال سبب دَ عزت ګنړی ﴿لَئِنْ رَّجَعْنَاۤ﴾ دا واقعه دَ غزوه بنی مصطلق نه په واپسئے کښ ده اوهغے ته مریسیع هم وئیلے کیږی ﴿لَيُخْرِجَنَّ الْاَعَزُّ﴾ دَ اَعزّ نه مراد عبدالله بن اُبیٔ منافق وؤ هغه مالدار وؤ اومال ئے سبب دَ عزت ګنړلو اودَ اذلّ نه دوی رسول الله ﷺ مراد کړے وؤ او

عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ ۚ وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ۝٩ وَاَنْفِقُوْا مِنْ مَّا رَزَقْنٰكُمْ مِّنْ قَبْلِ
اَنْ يَّاْتِيَ اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ فَيَقُوْلَ رَبِّ لَوْلَآ اَخَّرْتَنِيْٓ اِلٰٓى اَجَلٍ قَرِيْبٍ ۙ فَاَصَّدَّقَ وَاَكُنْ مِّنَ
الصّٰلِحِيْنَ ۝١٠ وَلَنْ يُّؤَخِّرَ اللّٰهُ نَفْسًا اِذَا جَآءَ اَجَلُهَا ۭ وَاللّٰهُ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ۝١١ ع

دَ ذکر دَ اللّٰه تعالیٰ نه او چاچه او کړو دا کار نو دغه کسان دوی پوره تاوان والا دی (۹) او خرچ کوئے دَ هغه نه چه مونږ درکړی دی تاسو ته مخکښ دَ دے نه چا رابشی یو تن ستاسو ته مرګ نو وائي به اے ربه زما ولے نه روستو کوے ته ما لره تر یو نیټے نزدے پورے نو ځه به صدقه او کړم او شم به ځه دَ نیکانو نه (۱۰) او هیڅرے نه روستو کوی اللّٰه تعالیٰ هیڅ نفس کوم وخت چه راشی نیټه دَ هغه او اللّٰه تعالیٰ خبردار دے په هغه عملونو چه تاسو کوئے (۱۱)

دا صریح کفر دے ﴿وَلِلّٰهِ الْعِزَّةُ﴾ دا تردید دے دَ عقیدے دَ دوی او عزت خو په اختیار دَ اللّٰه تعالیٰ کښ دے او عزت حاصلیږی په ایمان او تقویٰ سره او دا صفتونه دَ رسول او دَ مؤمنانو دی۔ سوال : په سورة نساء(۱۳۹) اوفاطر(۱۰) کښ تخصیص دَ عزت په اللّٰه تعالیٰ پورے کړے شوے دے اوپه دے ایت کښ ورسره رسول او مؤمنان هم ذکرشو؟ جواب :په هغه دواړه ایاتونوکښ مراد اختیار دَ عزت دے او هغه خاص دے په اللّٰه تعالیٰ پورے اوپه دے ایت کښ مراد توصیف دے په عزت سره یعنی موصوف په عزت سره اللّٰه تعالیٰ او رسول او مؤمنان دی منافقانو او کافرانو لره په نیزدَ اللّٰه تعالیٰ هیڅ عزت نیشته دے ﴿وَلٰكِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ﴾ فقاهت خاص دے دَ علم نه نو دا ترقی ده په قباحت دَ دوی کښ یعنی فقاهت خوځه چه علم هم په دوی کښ نیشته۔

[۹] هرکله چه دَ منافقانو قبائح ذکرکړے شول نو اوس مؤمنانو لره تحذیر ورکوی دَ اوصافودَ منافقانونه۔ اوهرکله چه سبب دَ دغه قباحتونواشتغال اوفخرکول دی په مال اوپه اولاد سره نوخصوصاً دَ هغے دَاشتغال نه نهی کوی﴿عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ﴾ مراد دَ ذکرنه طاعت دے توحید، اتباع سنت، پابندی دَ مونځ او قراءة دَ قرآن ټول په دے کښ داخل دی۔

[۱۰] دا ترغیب دے انفاق ته په وخت دَ قبولیت دَ هغے کښ (چه قبل الموت دے) اوانفاق دَ ذکراللّٰه یوخاص فرد دے په مقابل دَ منافقینوکښ چه هغوی دَ انفاق نه منع کوله۔ اومراد دَ انفقوا نه عام دے زکوٰة، صدقات واجبه، انفاق فی سبیل اللّٰه ټولوته شامل دے ﴿مِنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَ اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ﴾ مراد دَ دے نه تعجیل کول دی په انفاق کښ چه کله ئے وس برشی نوروستو والے نه کوی ﴿وَاَكُنْ مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ﴾ مراد دَ صالحین نه نور دَ اصلاح کارونه دی ماسیوا دَ تصدّق نه، ایمان راوړل، اتباع دَ سنت کول، توبه کول دَګناهونونه۔

[۱۱] ﴿بِمَا تَعْمَلُوْنَ﴾ دا شامل دے پټ اوښکاره عملونواونیټونودَ زړه ته هم اومفسر الوسی وئیلی دی چه عمره دَ نبی ﷺ عمر دَ درے شپیته کلونو دَ دے ایت نه استنباط کړیدے پداسے طریقه چه دا ایت انتهاء دَ درے شپیتم سورة ده او په دے کښ نفساً نبی ﷺ ته هم شامل دے چه دَ هغه نیټه چه راغله نوهم روستوالے نشوکیدلے او ورپسے تغابن ذکرشو اوغبن امت ته په سبب دَ وفات دَ نبی ﷺ سره او رسیدلو۔

سُوْرَةُ التَّغَابُنِ (۶۴) مَدَنِيَّةٌ (۱۰۸۵) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۱۸ رُكُوْعَاتُهَا ۲

يُسَبِّحُ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۚ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ ۚ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ①
هُوَ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ فَمِنْكُمْ كَافِرٌ وَّمِنْكُمْ مُّؤْمِنٌ ۭ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ② خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَ

پاکی وائي اللّٰه تعالیٰ لره هغه څیزونه چه په اسمانونو کښ دی او هغه څیزونه چه په زمکه کښ دی خاص هغه لره بادشاهی ده او خاص هغه لره ستائنه ده او هغه په هر څیز باندے قدرت لرونکے دے (۱) خاص اللّٰه تعالیٰ هغه ذات دے چه پیدا ئیے کړئے تاسو نو بعض ستاسو نه کافر دی او بعض ستاسو نه مؤمن دی او اللّٰه تعالیٰ ستاسو عملونو لره لیدونکے دے (۲) پیدا کړی دی اسمانونه او

سورة التغابن

ربط: دَ دے سورة دَ مخکښ سورة سره په ډیرو وجوهو سره دے یو وجه داده چه په تیرشوی سورتونو کښ رد وؤ په یهودیانو او منافقینو باندے نو په دے سورة کښ رد دے په مشرکینو اومنکرینو دَ بعث بعد الموت باندے۔

دعویٰ دَ دے سورة: اثبات دے دَ ځلورومقاصدوعالیو(توحید، رسالت،قرآن، بعث بعد الموت) سرهٔ دَ تزهید فی الدنیا اوترغیب الی الانفاق نه او دَدے وجے نه په دے کښ نهه اوامر ذکردی او اسماء حسنیٰ ئیے ځوارلس ذکرکړیدی دَ پاره دَ اثبات دَ توحید۔

خلاصه دَ سورة دا ده: پدیکښ اول دعویٰ دَ توحید ده په تسبیح سره او په هغے باندے ځلورعقلی دلیلونه ذکرکړیدی بیا تخویف دنیوی اوبیا سببونه دَ عذاب ذکردی اول انکارَ رسول نه اودویم انکارَ بعث بعد الموت نه اودَ هغے اثبات کوی په حلف سره۔ بیا امر دے په ایمان سره په درے مقاصدو باندے سرهٔ دَ بشارت او تخویف نه بیا ترغیب دے په ایمان بالقدر دَ پاره دَتخفیف دَ مصیبتونواو امردے په طاعت دَ اللّٰه تعالیٰ او دَ رسول۔ او ذکرَ توحید دے بیا تحذیر دے دَ محبت دَ دنیانه او ترغیب دے توحید او قرآن او انفاق ته سرهٔ دَ بشارت نه او دَ امر دَ انفاق سره پنځه اسماء حسنیٰ ذکردی دَپاره دَ ترغیب۔

تفسیر

[۱] پدیکښ توحید ذکردے په طریقه دَ تسبیح سره او دَ هغے دَپاره ئیے درے صفات دَ اللّٰه تعالیٰ ذکرکړی دی۔

[۲] دا هم دلیل دَ دعوے دَ توحید دے اودیته دلیل نفسی عقلی وئیلے شی ﴿فَمِنْكُمْ كَافِرٌ﴾ په دیکښ دوه قولونه دی اول داچه دَ دے نه مراد کفر او ایمان تقدیری دے یعنی اللّٰه تعالیٰ په تقدیر کښ څوك کافرمقررکړیدے اوڅوك مؤمن۔ نوخالق او تقدیرکوؤنکے اللّٰه تعالیٰ دے اودَکفراوایمان کسب کوؤنکے بنده دے ۔ دویم قول داچه په دیکښ کفر او ایمان کسبی مراد دے نوپه دے کښ معنیٰ دَ زجر ده یعنی اللّٰه تعالیٰ تاسو پیدا کړی ئیے نو پکار داوه چه ټولو ایمان راوړے وے لیکن تاسو تقسیم شوئے دوه ډلوته اوهرکله چه سبب دَ زجرکفردے دَ دے وجے نه کافر ئیے مخکښ ذکرکړیدے۔

الْاَرْضَ بِالْحَقِّ وَصَوَّرَكُمْ فَاَحْسَنَ صُوَرَكُمْ ۚ وَاِلَيْهِ الْمَصِيْرُ ۝٣ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَيَعْلَمُ
مَا تُسِرُّوْنَ وَمَا تُعْلِنُوْنَ ۭ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ۝٤ اَلَمْ يَاْتِكُمْ نَبَؤُا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ
قَبْلُ ۡ فَذَاقُوْا وَبَالَ اَمْرِهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝٥ ذٰلِكَ بِاَنَّهٗ كَانَتْ تَّاْتِيْهِمْ رُسُلُهُمْ
بِالْبَيِّنٰتِ فَقَالُوْٓا اَبَشَرٌ يَّهْدُوْنَنَا ۡ فَكَفَرُوْا وَتَوَلَّوْا وَّاسْتَغْنَى اللّٰهُ ۭ وَاللّٰهُ غَنِيٌّ حَمِيْدٌ ۝٦ زَعَمَ
الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَنْ لَّنْ يُّبْعَثُوْا ۭ قُلْ بَلٰى وَرَبِّيْ لَتُبْعَثُنَّ ثُمَّ لَتُنَبَّؤُنَّ بِمَا عَمِلْتُمْ ۭ وَذٰلِكَ عَلَى
اللّٰهِ يَسِيْرٌ ۝٧ فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَالنُّوْرِ الَّذِيْٓ اَنْزَلْنَا ۭ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ۝٨ يَوْمَ

زمکه دَ حق بنکاره کولو د پاره او شکلونه ئے درکړی دی تاسو ته نو خائسته کړی دی شکلونه ستاسو او خاص هغه ته ورکړ خیدل دی (٣) عالم دے په هغه څه چه په اسمانونو کښ دی او زمکه کښ دی او عالم دے په هغه څه چه پټوئے تاسو او په هغه څه چه بنکاره کوئے تاسو او الله تعالیٰ عالم دے په هغه خبرو چه په سینو دَ خلقو کښ دی (٤) ایا نه دے راغلے تاسو ته خبر دَ هغه کسانو چه کفر ئے کړے وؤ مخکښ ستاسو نه نو اوځکله هغوی سزا دَ کار خپل او دوی لره عذاب درد ناك دے (٥) دا په دے وجه چه یقیناً راتلل دوی ته رسولان دَ دوی په بنکاره احکامو سره نو دوی اُوئیل ایا یو بشر مونږ ته لار ځائي نوانکار اوکړو دوی او مخ ئے واړوؤ او بنکاره کړه الله تعالیٰ خپله بے پرواهی او الله تعالیٰ بے حاجته ستائیلے شوے ذات دے (٦) ګمان کوی کافران چه دوی به هیڅرے دوباره پیدا نشی ته اُوایه هاں قسم دے په رب زما ضرور به دوباره پیدا کړے شئے بیا به ضرور خبر در کړیشي تاسو ته دَ هغه عملونو چه تاسو کړیدی او دا کار په الله تعالیٰ باندے اسان دے (٧) نو ایمان راؤړئے په الله تعالیٰ او په رسول دَ هغه باندے او په هغه رنړا باندے چه نازل کړیده مونږ او الله تعالیٰ ستاسو عملونو باندے خبر دار دے (٨) په هغه ورځ

[٣] دا بل دلیل عقلی دے دَ آفاقی او انفسی نه مرکب دے ﴿بِالْحَقِّ﴾ په معنیٰ دَ حکمت سره یا په معنیٰ دَ یقین سره دے یابا په معنیٰ دَ لام سره ده یعنی دَپاره دَ اظهاردَ حق اوهغه توحید دَ الله تعالیٰ دے ﴿فَاَحْسَنَ صُوَرَكُمْ﴾ حُسن په اعتباردَباطن اودَ ظاهر دواړو سره وی او جمال صرف په اعتباردَ ظاهر سره وی نو په انسان کښ اوصاف باطنیه معنویه او تناسب دَ اندامونو او سیدها قد وقامت داسے دے چه په نور مخلوق کښ نیشته۔

[٤] دا بل دلیل دے روستو دَ صفاتو دَ تصرف نه صفت دَ علم ذکر کوی۔

[٥] دا تخویف دُنیوی او اُخروی دے ﴿نَبَؤُا﴾ نباء لوے خبر او غټے واقعے ته وئیلے کیږی۔

[٦] دا سبب دَ عذاب ذکر کوی چه انکار دے دَ رسالت دَ رسولانونه په بهانه دَ بشریت سره ﴿وَاسْتَغْنَى اللّٰهُ﴾ دا په معنیٰ دَ اظهار دَ استغناء دے په هلاکولودَ دوی سره یا دا جمله حالیه ده یعنی حال دا چه الله تعالیٰ خودَ مخکښ نه غنی ذات دے دَ هغه دَ مخلوق ایمان ته هیڅ حاجت نیشته۔

[٧] پدیکښ زجردے په انکاردَ بعث بعد الموت سره او دا هم سبب دَ عذاب دے اوداخل دے په فَكَفَرُوْا وَتَوَلَّوْا کښ او دا څلورم ایت دے دَ قرآن نه چه په هغے کښ الله تعالیٰ په خپل ربوبیت باندے قسم کوی دَ پاره دَ اثبات دَ بعث۔

يَجْمَعُكُمْ لِيَوْمِ الْجَمْعِ ذٰلِكَ يَوْمُ التَّغَابُنِ ؕ وَمَنْ يُّؤْمِنْ بِاللّٰهِ وَيَعْمَلْ صَالِحًا يُّكَفِّرْ عَنْهُ سَيِّاٰتِهٖ
وَيُدْخِلْهُ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ؕ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ۝۹ وَ
الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَآ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ۝۱۰ مَآ اَصَابَ
مِنْ مُّصِيْبَةٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ وَمَنْ يُّؤْمِنْ بِاللّٰهِ يَهْدِ قَلْبَهٗ ؕ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ۝۱۱ وَاَطِيْعُوا

چه جمع به کړی تاسو په ورځ د جمع کولو کښ دغه ورځ د غبن ښکاره کیدلو ده او چاچه ایمان راوړو په الله تعالیٰ باندے او عمل ئے نیك او کړو لرے به کړی الله تعالیٰ د دهٔ نه بدئے د دهٔ او داخل به کړی دهٔ لره جنتونو ته چه بهیږی لاندے د هغے نه ولے همیشه به وی دوی په هغے کښ همیشه دا کامیابی لویه ده (۹) او هغه کسان چه کفر ئے کړیدے او دروغژن ګڼړی ایاتونه زمونږ دغه کسان اور والا دی همیشه به وی دوی په هغے کښ او بد دے ځائے د ورګرځیدلو (۱۰) نه رسی هیڅ مصیبت مګر په حکم (تقدیر) د الله تعالیٰ سره او چاچه ایمان راوړو په (تقدیر) د الله تعالیٰ کلك کړی الله تعالیٰ زړه د هغه او الله تعالیٰ په هر څیز باندے پوره علم لرونکے دے (۱۱) او تابعداری کوئے

[۸] هرکله چه مخکښ ایاتونو کښ توحید او رسالت او بعث بعد الموت د قرآن کریم په اخباراتو سره ثابت شونواوس په هغے باندے تفریع کوی په دعوت اوایجاب د ایمان سره په دے ټولو باندے۔ ﴿فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ﴾ یعنی ایمان راوړئے په الوهیت د الله تعالیٰ باندے ﴿وَرَسُوْلِهٖ﴾ مراد د دے نه جنس رسول دے نوټولو رسولانو باندے عموماً اود اخری رسول په رسالت باندے خصوصاً ایمان راوړل مراد دی ﴿وَالنُّوْرِ﴾ مراد دے نه ټوله وحی اوخصوصاً قرآن دے ځکه چه د دے په ذریعه د تیارود ګمراهئ د جهل نه خلاصے حاصلیږی۔

[۹] په دے کښ تذکره د ورځ د قیامت ده اویا بشارت اخرویه ذکر کوی ﴿ذٰلِكَ يَوْمُ التَّغَابُنِ﴾ ماخوذ دے د غبن نه په لغت کښ نقصان د قیمت ته وئیلے کیږی کله چه یو انسان یو څیز لره په کم قیمت سره خرڅ کړی نو وئیلے کیږی چه فلانی غبن (نقصان) اوکړو اودارنګ چه خوك په امانت کښ خیانت اوکړی نو هغے ته هم غبن وئیلے شی یعنی اور والوخپل مالونه اوخپل عمرخرڅ کړو اوپه هغے ئے اور واخستو او دا غبن اولوئے نقصان دے نورو ایاتونو کښ دیته خسران هم وئیلے کیږی نودا معامله د اوروالو ئے مشابه کړه یو داسے مبادلے سره چه په هغے کښ تاوان اوغبن حاصل شی ۔دویمه وجه دا ده چه هریومکلف سره د هغه عمراو بدن اومال امانت د الله تعالیٰ دے اودے ماموردے چه داپه داسے طریقه خرچ کړی چه په هغے سره جنت حاصل شی او د اُور نه بالکل نجات اومومی لیکن اکثر مکلفینو په دے امانت کښ غبن کړے دے ﴿وَمَنْ يُّؤْمِنْ﴾ دا دلیل دے چه په ایمان اوعمل سره انسان د غبن نه بچ کیږی د دے وجے نه دے ته فوز عظیم اووئیلے شو۔

[۱۰] په دے کښ ذکر د غبن والو دے او د هغے سبب ئے ذکر کړے دے او تخویف اخروی دے۔

[۱۱] دا متعلق دے د ﴿فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ﴾ سره په طریقه د جواب سوال سره ۔سوال دا دے چه په توحید اواتباع د قرآن او سنت کښ دِیر مصیبتونه راځی نود هغے علاج څه دے؟ حاصل جواب داد ے چه هر مصیبت

اللّٰهَ وَ اَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ ۚ فَاِنْ تَوَلَّيْتُمْ فَاِنَّمَا عَلٰى رَسُوْلِنَا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿۱۲﴾ اَللّٰهُ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ؕ وَ
عَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۳﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِنَّ مِنْ اَزْوَاجِكُمْ وَ اَوْلَادِكُمْ عَدُوًّا لَّكُمْ
فَاحْذَرُوْهُمْ ۚ وَ اِنْ تَعْفُوْا وَ تَصْفَحُوْا وَ تَغْفِرُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۴﴾ اِنَّمَاۤ اَمْوَالُكُمْ وَ

دَ اللّٰه تعالیٰ او تابعداری کوئے دَ رسول نو که چرے مخ واړ وؤ تاسو نو یقیناً زمونږ په رسول باندے رَسَول بنکاره دی (۱۲) اللّٰه تعالیٰ نیشته حقدار دَ بندګئے سیوا دَ هغه نه او خاص په اللّٰه تعالیٰ باندے دے ځان اوسپاری مؤمنان (۱۳) اے ایمان والو! یقیناً بعضِ دَ بیبیانو ستاسو او اولاد ستاسونه دُشمنان ستاسو دی نو ځان اوساتئ دَ هغوی نه او که چرے معاف کوئے تاسو (خطائے دَ هغوی) او مخ اړوئے (دَ ملامته کولونه) او بخنه ورته کوئے نو یقیناً اللّٰه تعالیٰ بخنه کوؤنکے دے رحم کوؤنکے دے (۱٤) یقیناً مالونه ستاسو او

مقرروی دَ طرف دَ اللّٰه تعالیٰ نه نوهرکله چه په چاباندے مصیبت راشی نو عقیده دِ اولری چه دا دَ اللّٰه تعالیٰ په تقدیرسره دے نوپه دے سره به دَ هغه زړه مضبوط شی اوپه هدایت باندے به کلك شی ﴿يَهْدِ قَلْبَهٗ﴾ قرطبی دَ ابوعثمان الحیری نه نقل کړیدی چه دَچا ایمان صحیح شو نو اللّٰه تعالیٰ ورلره دَ اتباعِ سُنّت توفیق ورکوی۔ یا مراد دَ دے نه کلك والے دَ زړه دَ هغه دے په ایمان باندے په وخت دَ مصیبتونو کښ اوخطیب شربینی وئیلی دی چه هرکله زړه په هدایت باندے پوخ شی نوزائل شی دَ هغه نه هر اعتقاد باطل، کفر او بدعت او صفات خبیثه دَ هغه۔

[۱۲] یعنی اسان کړئے په ځان باندے مصیبتونه دَ وجے دَ ایمان نه په تقدیر باندے اوطاعت دَ اللّٰه تعالیٰ او دَ رسول دَ هغه کوئے دَ مصائبودَ وجے نه ئے مه پریګدئے ابن کثیردَ امام زهری نه نقل کړیدی چه دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه رسالت دے اودَنبیﷺ دَ طرف نه بلاغ دے او زمونږ دَ طرف نه تسلیم دے۔

[۱۳] دا دعویٰ دَ توحید ده او دارنګ دَ مصائبو دَ دفع کولودَپاره توکل په اللّٰه تعالیٰ باندے ضروری دے۔ ابن کثیر وئیلی دی چه په اوله جمله کښ معنیٰ دَ طلب پرته ده یعنی اخلاص اوکړئے اللّٰه تعالیٰ ته په هرقسم شرك پریخودلو سره۔

[۱٤] دَ اطاعة اللّٰه والرّسول دَ یومانع (چه مصیبتونه دی) علاج ئے ذکرکړونو اوس نور موانع ذکرکوی چه ازواج او اولاد دی ﴿اِنَّ مِنْ اَزْوَاجِكُمْ﴾ مِن دلیل دے چه دا دشمنی دَ بعضو دَ طرف نه وی۔ ﴿عَدُوًّا لَّكُمْ﴾ مراد دَ دے نه عداوت دینیه اخرویه دے یا په طریقه دَ تشبیه باندے دے یعنی پشان دَ دشمنانو وی اودشمنی داده چه منع کول کوی دَ هجرت اودَا تباع دَ سنت نه په غم اوښادئے کښ اوترغیب ورکوی بدعاتو او رسمونو رواجونو ته﴿فَاحْذَرُوْهُمْ﴾ یعنی په باره دَ دین کښ دَ هغوی دَ وسوسے او دَ اطاعت کولو نه ځان اوساتئے﴿وَاِنْ تَعْفُوْا وَتَصْفَحُوْا﴾دا تعلیم دَحسنِ اخلاق دے دَپاره دَ دفعے دَ فساد دَکورنئ۔

اَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ ط وَاللّٰهُ عِنْدَهٗٓ اَجْرٌ عَظِيْمٌ ﴿١٥﴾ فَاتَّقُوا اللّٰهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ وَاسْمَعُوْا وَاَطِيْعُوْا وَاَنْفِقُوْا خَيْرًا لِّاَنْفُسِكُمْ ط وَمَنْ يُّوْقَ شُحَّ نَفْسِهٖ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿١٦﴾ اِنْ تُقْرِضُوا اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا يُّضٰعِفْهُ لَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ط وَاللّٰهُ شَكُوْرٌ حَلِيْمٌ ﴿١٧﴾ عٰلِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿١٨﴾ ع

اولاد ستاسو امتحان دے او اللّٰه تعالیٰ خاص دَ هغه سره ثواب لوئے دے (١٥) نو ویره کوئے دَ اللّٰه تعالیٰ نه ځومره چه ستاسو وس رسیږی او غوږ کیدئے او خبره منئے او خرچ کوئے نو غوره به وی ستاسو دپاره او هغه څوك چه اوساتلے شو دَ حرص دَ نفس خپل نه نو دغه کسان دوی کامیاب دی (١٦) که چرے قرض ورکړئے تاسو اللّٰه تعالیٰ ته قرض خائسته (په اخلاص سره) زیات به ئے کړی تاسو لره او بخنه به کوی تاسو ته او اللّٰه تعالیٰ قبلوؤنکے دَ عملونو دے صبر ناك دے (١٧) عالم دے په هر پټ او ښکاره باندے زوراور حکمتونو والا دے (١٨)

[١٥] دا دَ اطاعة اللّٰه والرسول نه دَ بل مانع ذکرکوی چه هغه مالونه او اولاد دی په تیرشوی ایت کښ ئے مِن ذکرکړے وؤ ځکه چه عداوت دینیه دَ هرے ښځے او اولادنه نه وی او هرچه مالونه او اولاد فتنه کیدل دی دا خو ټول اولاد مالونوته شامل دے او اموال ئے محکښ ذکرکړل په اولاد باندے ځکه چه دَ مالونو فتنه ډیره ده په نسبت دَ اولاد سره ﴿فِتْنَةٌ﴾ په قرآن کښ دَ دے مختلف معانے دی دلته مراد امتحان دے یعنی محبت دَ مال او اولاد کله انسان لره منع کوی دَ طاعت دَ اللّٰه تعالیٰ او دَ رسول نه او کله دا سبب اوکړځی دپاره دَ تقرب الی اللّٰه تعالیٰ ﴿وَاللّٰهُ عِنْدَهٗٓ اَجْرٌ عَظِيْمٌ﴾ یعنی هرکله چه دَ طاعت دَ اللّٰه تعالیٰ اودَمحبت دَمال او اولاد مقابله راشی نوطاعت دَ اللّٰه تعالیٰ مه پریګدئے ځکه چه لوئے اجربه ضائع شی دَپاره دَلګ اوفانی څیز۔

[١٦] روستو دَ ذکرکولودَ اسبابودَ عداوت او دَ فتنے نه چه هغه اسباب دَ ګمراهئی دی ذکرکوی امور دَ هدایت او دَ دین چه هغه څلور اوامر دی، اول امرپه تَقویٰ سره،په دے کښ ئے قید لګولے دے دَ ما استطعتم۔ دَ ما استطعتم مقصد دا دے چه هر انسان دے خپل پوره استطاعت صرف کوی په اقامت دَ حدود شرعیه دَ تقویٰ کښ۔ دویم امر وَاسْمَعُوْا دریم امر وَاَطِيْعُوْا یوعلم حاصلولوته اشاره ده اوبل په هغے باندے عمل کولوته۔ څلورم امر وَاَنْفِقُوْا داعبادات مالیه دے او محکښ درے عبادات بدنیه (عقیده او اعمال) دی۔

[١٧،١٨] په دے کښ ترغیب دے انفاق فی سبیل اللّٰه ته روستو دَ امر دَ انفاق نه اوانفاق ته ئے قرضِ حسنه نوم کیځولے دے دَپاره دَترغیب۔ یا مراد دَ قرض نه مطلق اعمال حسنه دی چه په هغے کښ حُسنِ وی په توحید او اتباع سُنت سره نو دا تعمیم بعد التخصیص دے ﴿وَاللّٰهُ شَكُوْرٌ حَلِيْمٌ﴾ شکر دَ طرف دَ اللّٰه تعالیٰ نه ښکاره کول دَ نعمت دی په ذریعه دَ ډیرے جزا ورکولو سره اودا متعلق دے دَ يُضٰعِفُ سره۔ ﴿حَلِيْمٌ﴾ تلوارنه کوی په سزا ورکولو کښ مجرمانوته بلکه مهلت ورکوی دَپاره دَ دے چه توبه اوباسی او بخشش ورته اوکړے شی نودا متعلق دے دَ يَغْفِرْ سره۔

سُوْرَةُ الطَّلَاقِ (٦٥) مَدَنِيَّةٌ (١٩٩) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ١٢ رُكُوْعَاتُهَا ٢

يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ اِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ فَطَلِّقُوْهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ وَاَحْصُوا الْعِدَّةَ ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ رَبَّكُمْ ۚ لَا تُخْرِجُوْهُنَّ مِنْۢ بُيُوْتِهِنَّ وَلَا يَخْرُجْنَ اِلَّآ اَنْ يَّاْتِيْنَ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ ۭ وَتِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ ۭ وَمَنْ يَّتَعَدَّ حُدُوْدَ اللّٰهِ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهٗ ۭ لَا تَدْرِيْ لَعَلَّ اللّٰهَ يُحْدِثُ

اے نبی هر کله چه طلاق ورکول غواړے ښځیانوته نو طلاق ورکړئے دوی ته مخکښ دَ زمانے دَ عدت نه او پوره شمارونے مده دَ عدّت او ویره کوئے دَ اللّٰه تعالیٰ نه چه ستاسو رب دے مه اوباسئی دوی لره دَ کورونو دَ دوی نه او نه دے اوځی دوی پخپله مګر که چرے راتلل اوکړی په بدئے ښکاره سره او دا پولے دَ اللّٰه تعالیٰ دی او چا چه تیریدل اوکړل دَ پولو دَ اللّٰه تعالیٰ نه نو یقیناً ظلم ئے اوکړو په ځان خپل باندے نه پوهیږی هیڅ نفس چه امید دے چه اللّٰه تعالیٰ به پیدا کړی

سورة الطلاق

او دَ دے بل نوم سورة النساء القصریٰ دے۔

ربط: دَ دے سورة دَ ما قبل سره په ډیر وجوهو سره دے اوله وجه دا ده چه په هغه سورة کښ دَ بعضِ ازواجو دَ عداوت ذکر اوکړے شونو په دے سورة کښ دَ هغوی دَ مفارقت طریقه شرعیه ذکرکوی په وخت دَ ضرورت کښ۔ دویمه وجه دا ده چه په هغه سورة کښ امر وؤ په تقویٰ سره اوپه دے سورة کښ پنځه فائدے دَ تقویٰ ذکرکوی۔

دعویٰ دَ دے سورة: امر دے په رعایت دَ حدود شرعیه سره عموماً اوپه معامله دَ طلاق اودَ عدت دَ زنانو کښ خصوصاً اودا معنیٰ دَتقویٰ ده چه دَ هغے پنځه فوائد ئے ذکرکړی دی اوحدود شرعیه په دیارلس اوامرو سره اوپه درے نواهی سره ذکرشوی دی ۔ او دعویٰ دَ توحید په (۱۲) کښ ده او درے اسماء حسنیٰ دَ اللّٰه تعالیٰ ئے ذکرکړیدی۔

خلاصه دَ سورة دا ده: چه په اول ایت کښ ذکر دَ طریقه شرعی دَطلاق او دَ عدت دے اوحکم دَ سُکنیٰ (اوسیدل دَ ښځے) ئے په حالت دَ عدت کښ ذکرکړے دے او دے ته ئے حدود وئیلی دی اوپه (۲) کښ حکم دَ رجوع او دَ عدم رجوع ذکردے اوپه (۳) کښ دوه فائدے دَ تقویٰ مذکور دی او په (٤) کښ بعضِ قِسمونه دَعدت او دریمه فائده دَ تقویٰ ذکرشویده او په (٥) کښ دا احکام ئے مسمیٰ کړیدی په امر اللّٰه سره او دَ تقویٰ دوه فائدے ئے ذکرکړیدی اوپه (٦) کښ حکم دَ سکنیٰ او دَ انفاق او دَ رضاع دَ ولد ذکرشویدے اوپه (۷) کښ ذکر دی چه انفاق به دَ زوج دَ طاقت مناسب وی۔ بیا تخویف دنیوی او اخروی په سبب دَ تعدّی عن حدود اللّٰه سره په درے ایاتونو کښ ذکرکوی اوصدق دَ قرآن اودَ رسول سرهٗ دَ بشارتِ اخرویه نه په دوه ایاتونو کښ اواختتام دَ سورة دے په ذکردَ توحید سره اوپه هغے کښ خلاصه دَ اسماؤ اوصفاتودَ الوهیت ذکرکړیده په ضمن دَ دوه صفتونو کښ چه علم او قدرت دے۔

بَعْدَ ذٰلِكَ اَمْرًا ① فَاِذَا بَلَغْنَ اَجَلَهُنَّ فَاَمْسِكُوْهُنَّ بِمَعْرُوْفٍ اَوْ فَارِقُوْهُنَّ بِمَعْرُوْفٍ وَّ اَشْهِدُوْا ذَوَىْ عَدْلٍ مِّنْكُمْ وَ اَقِيْمُوا الشَّهَادَةَ لِلّٰهِ ؕ ذٰلِكُمْ يُوْعَظُ بِهٖ مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ۙ وَمَنْ يَّتَّقِ اللّٰهَ يَجْعَلْ لَّهٗ مَخْرَجًا ② وَّيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ ؕ

روستو دَ دے بله بنه خبره (۱) نوهر کله چه دوی نزدے شی نیتی خپلے ته نو حصارے کړئے دوی لره په بنه طریقے سره (رجوع کول) یا جدا کړئے دوی لره په بنه طریقے سره (رجوع نه کول) او گواهان کړئے (په دواړه حاله کښ) دوه انصاف والا ستاسو نه او پوره کړئے شهادت دپاره دَ اللّٰه تعالیٰ دا وعظ ورکیدے شی پدے سره هغه چاته چه ایمان لری په اللّٰه تعالیٰ او په ورځ روستنئے او څوك چه ویره کوی دَ اللّٰه تعالیٰ نه جوړه به کړی دهٔ لره طریقے دَ نجات (۲) او روزی به ورکوی دهٔ ته دَ داسے ځائے نه چه دے به گمان نه کوی

تفسیر

[۱] ﴿يٰۤاَيُّهَا النَّبِيُّ﴾ په دے ایت کښ اته جملے دی اوپه هره جمله کښ ډیراحکام اوحکمتونه شرعیه دی او درے اوامردی او دوه پکښ نواهی دی په نداء دَ یا ایهاالنبی کښ اشاره ده چه احکام شرعیه به صادریږی دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه دَ نبی ﷺ په واسطے سره بغیر دَ هغه نه شرعی حکم نشی کیدے۔ ﴿فَطَلِّقُوْهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ﴾ مراد دَ عدت نه زمانه دَ طهر ده په اتفاق سره اولام دَپاره دَتوقیت دے په نیزدَ هغه علماؤ چه عدت په طهرسره وائي اوڅوك چه عدت په حیض سره وائي نوپه دے کښ لفظ دَ استقبال یا مستقبلات پټ دے﴿وَاَحْصُوا الْعِدَّةَ﴾ دَ عدت ورځے یاحیضونه اوطهرونه پوره شمارل لازم دی اوداحکم دپاره دَ مدخول بهادے اودا شمارل دَ دے وجے نه ضروری دی چه په دے باندے احکام دَ رجوع اودَ دویم نکاح اونفقے وغیره تفریع کیږی۔اوخطاب پدیکښ خاوندانوته دے﴿لَا تُخْرِجُوْهُنَّ﴾ دا دلیل دَ اوسیدلو دے دَ زنانه روستودَ طلاق نه په وخت دَعدت کښ په کور دَ خاوند کښ خاوند باندے دَهغے ویستل حرام دی اوښځے لره هم پریخودل دَسکنیٰ حرام دی﴿اِلَّاۤ اَنْ يَّاْتِيْنَ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ﴾ مراد دَ دے نه وتل دی بغیرَ اجازت نه او وتل دی بغیرَ ضرورت نه یا مراد ترینه بد زبانی دَ ښځے ده دَ خاوند او دَ سخرګنئے سره۔ یا مراد دَ دے نه زنادے لیکن وتل دَپاره دَحد قائم کولودی هسے شرل مرادنه دی﴿لَا تَدْرِيْ لَعَلَّ اللّٰهَ يُحْدِثُ بَعْدَ ذٰلِكَ اَمْرًا﴾ دا حکمت دے دَپاره دَ طلاق رجعی او عدت تیرول په کور دَ خاوند کښ۔ بَعْدَ ذٰلِكَ، دا اشاره ده یوطلاق یا دوه طلاقوته۔ اَمْرًا، مراد دَ دے نه رغبت دَ خاوند دے دغه ښځے ته په رجوع کولو سره اودا دلیل دے چه درے طلاق په یوځل ورکول ظلم دے اودَ دے حکمت نه خلاف دے ځکه چه په هغے کښ رجوع کول حرام دی بغیرَ تحلیل شرعی نه۔

[۲] په دے ایت کښ څلور اوامر ذکرکوی ﴿بَلَغْنَ اَجَلَهُنَّ﴾ مراد دا دے چه عدت ئے قریب دے تیریدلوته لیکن ختم شوے نه دے ﴿فَاَمْسِكُوْهُنَّ﴾ مراد دا چه په عدت کښ دَ خاوند خوښه ده که رجوع ورته کوی اوکه نه کوی دَ ښځے رضا په دے کښ شرط نه ده ﴿وَاَشْهِدُوْا ذَوَىْ عَدْلٍ مِّنْكُمْ﴾ شهادت پیش کول په وخت دَ رجوع کولو یا په وخت دَ طلاق ورکولو کښ دَاکثراهلِ علمویه نیزباندے دا امردَ وجوب دپاره نه دے لیکن بغیرَ اشهاد نه رجوع کول اوطلاق ورکول خلاف سنت دی لکه چه ابوداؤد دَ عمران بن حصین ﷺ

وَمَنْ يَّتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ فَهُوَ حَسْبُهٗ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بَالِغُ اَمْرِهٖ ؕ قَدْ جَعَلَ اللّٰهُ لِكُلِّ شَيْءٍ قَدْرًا ۝۳
وَالّٰٓـِٔيْ يَئِسْنَ مِنَ الْمَحِيْضِ مِنْ نِّسَآئِكُمْ اِنِ ارْتَبْتُمْ فَعِدَّتُهُنَّ ثَلٰثَةُ اَشْهُرٍ ۙ وَّالّٰٓـِٔيْ لَمْ
يَحِضْنَ ؕ وَ اُولَاتُ الْاَحْمَالِ اَجَلُهُنَّ اَنْ يَّضَعْنَ حَمْلَهُنَّ ؕ وَمَنْ يَّتَّقِ اللّٰهَ يَجْعَلْ لَّهٗ

او چاچه ځان اوسپارو په الله تعالی باندے نو هغه (الله ته) پوره دے دهٔ لره یقیناً الله تعالی پوره کوؤنکے دے خپل کار لره یقیناً جوړ کړے دے الله تعالی دپاره دَ هر څیز خاص انداز (۳) او هغه زنانه چه نا امیده وی دَ حیض نه دَ زنانۂ ستاسو نه که چرے شك کوئے (په عدت دَ هغوی کښ) نو عدت دَ هغوی درے میاشتے دے او هغه زنانه چه نه وی حائضه شوے هم او حمل والا زنانه عدت دَ هغوی زیګول دَ حمل دَ دوی دی او چاچه ویره کوله دَ الله تعالی نه جوړه وی دهٔ لره

نه روایت نقل کړیدے اوقاسمی وئیلی دی چه ظاهر دا ده چه دا امرهم دَ وجوب دپاره دے ځکه ټول اوامر دَ دے سورة دَ وجوب دَپاره دی او دا یو قول دَ امام شافعیؒ دے ﴿وَاَقِيْمُوا الشَّهَادَةَ لِلّٰهِ﴾ دا امردے ګواهانوته په وخت دَ ضرورت دَ ګواهئی ادا کولو کښ چه ګواهئ ته حاضر شی اودروغ دِ پکښ نه وائي اواجرت دِ په هغے باندے نه اخلی ﴿وَمَنْ يَّتَّقِ اللّٰهَ يَجْعَلْ لَّهٗ مَخْرَجًا﴾ پدیکښ دَ تقویٰ یوه فائِده ذکرکړه اومراد دَ تقویٰ نه دَ شرك اوکفرنه ځان ساتل اودَ ټولوګناهونوکبیرونه بچ کیدل اوپه صغیره اصرارنه کول اودَ مامورات شرعیوامتثال کول دی۔ اوپه سنت طریقه طلاق ورکول او دَ بدعی طلاقونه ځان ساتل په دے تقویٰ کښ داخل دی ﴿يَجْعَلْ لَّهٗ مَخْرَجًا﴾ هرغم دَ دُنیا او اخرت نه نجات او دارنګ دَشبهاتو او دَ شکونونه بچ کیدل مراد دی او دفع دَ ضرر خو مخکښ وی دَ حصول دَ منفعت نه دَ دے وجے نه دا فائِده ئے وراندے ذکرکړه۔ لفظ دَ مخرجاً کښ اشاره ده چه تکلیفونه مصیبتونه به وربانده راځی لیکن دَ هغے نه راوتل او دَ هغے دَناکاره اثارونه به نجات مومی۔

[۳] پدیکښ دویمه فائِده دَتقویٰ ذکرکوی اومراد دَ دے نه برکات اچول دی په رزق دَ دهٔ کښ اوبغیردَظاهری اسبابونه روزی راتلل دی ﴿وَمَنْ يَّتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ فَهُوَ حَسْبُهٗ﴾ هرکله چه توکل لره هم دخل وؤپه برکت دَ رزق کښ دَ دے وجے نه دائیے ورسره متصل ذکرکړوتوکل اعتماد دے په الله تعالی باندے اوټول کارونه هغه ته سپارل دی سرهٔ دَاستعمال دَ اسبابونه ﴿اِنَّ اللّٰهَ بَالِغُ اَمْرِهٖ﴾ داجواب دَسوال دے، سوال داچه دِیرتوکل کوؤنکی خومتقیان خلق دی اوپه هغوی باندے مصیبتونه مرضونه وغیره راځی؟ حاصل جواب دا دے چه دا فیصلے دَ الله تعالی دی چه په مخلوق کښ چلوی اوهره فیصله خپلے انتها ته رسوی۔ ﴿قَدْ جَعَلَ اللّٰهُ لِكُلِّ شَيْءٍ قَدْرًا﴾ یعنی خپله فیصله دَ دے وجے نه پوره کوی چه دَهغے تقدیرئیے کړے دے یا مراد دَ دے مقداراوانتهاء وه لکه چه دَ طلاق اوعدت دَپاره ئیے تعداد اومدت مقررکړے دے دارنګ دَهرمصیبت اومرض دَپاره مقداراومدت الله تعالی مقررکړے دے۔

مِنْ اَمْرِهٖ يُسْرًا ۝٤ ذٰلِكَ اَمْرُ اللّٰهِ اَنْزَلَهٗٓ اِلَيْكُمْ ۭ وَمَنْ يَّتَّقِ اللّٰهَ يُكَفِّرْ عَنْهُ سَيِّاٰتِهٖ وَيُعْظِمْ لَهٗٓ اَجْرًا ۝٥ اَسْكِنُوْهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنْتُمْ مِّنْ وُّجْدِكُمْ وَلَا تُضَاۗرُّوْهُنَّ لِتُضَيِّقُوْا عَلَيْهِنَّ ۭ وَاِنْ كُنَّ اُولَاتِ حَمْلٍ فَاَنْفِقُوْا عَلَيْهِنَّ حَتّٰى يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ ۚ فَاِنْ اَرْضَعْنَ لَكُمْ فَاٰتُوْهُنَّ

دَ کار دَ دۀ نه اسانتیا (٤) دا حکم دَ اللّٰه تعالیٰ دے نازل کړے دے تاسوته او چاچه ویره او کړه دَ اللّٰه تعالیٰ نه لرے کوی به دَ دۀ نه بدئے دَ دۀ او لویه وی به دوی لره ثواب (٥) اوسوئے دوی لره په هغه ځائے کښ چه تاسو پکښ اوسیږئے دَ طاقت ستاسو نه او مه ضرر ورکوئے دوی ته دپاره دَ دے چه تنګسیا راولے په دوی باندے او که چرے وی دا زنانه حمل والا نو خرچ کوئے په دوی باندے تر دے پورے چه اوزیګوی حمل خپل نو که چرے پئ ورکوی دوی ستاسو (بچو) لره نو ورکوئے دوی ته

[٤] په دے ایت کښ دَ درے قسمونو زنانوعدت ذکرکوی اوپه اخردَ ایت کښ دَ تقویٰ یوفائِده ذکرکوی۔ یوقسم زنانه ایئسه ده چه دَحیض دَ راتللونه نا امیده شی نوحامله کیدے هم نشی اودَ دے په مدت کښ اختلاف دے چه شپیته، اویاء، یا پنځه پنځوس کلونه دی۔ صحیح داده چه داپه عادت دَ وطنونواودَ زنانوباندے بِنادے۔ دویم قسم صغیره نا بالغه چه دَ هغے حیض تراوسه پورے نه وی شروع شوے لیکن دَهغے نکاح کړے شوے وی او خاوند ورسره دخول کړے وی او بیا طلاقه کړے شی دَ دے دواړه قسمونو عدت درے میاشتے دے ځکه چه اصل په عدت کښ حیض دے او عادةً حیض په میاشت کښ یوځل راځی او دَ دوی حیض نیشته نو دَ دے حیضونو په ځائے کښ درے میاشتے مقرر کړے شوے ۔دریم قسم حاملے زنانه دی برابره خبره ده چه طلاقه کړے شوے وی یا خاوند ترینه وفات شوے وی۔ دَ دے عدت وضع دَ حمل ده که لګ وخت روستووی اوکه ډیر وخت پس وی ﴿وَلَمْ يَحِضْنَ﴾ دا دلیل دے چه دَ نا بالغے نکاح چه ولی اوکړی دَ چاسره نودا شرعاً جائزدے لکه نکاح دَ عائشة رضی اللّٰه عنها نو ځوک چه دَ دے نه انکار کوی اوپه باره دَ حدیثِ عائشة رضی اللّٰه عنها کښ په امام بخاری یاپه امام زهری باندے طعنونه کوی نو داخلق پخپله مطعون دی او ﴿يُسْرًا﴾ عام دے دَمَخرَجاً نه دَ دُنیا اودَ اخرت اسانتیاته شامل دے نودالویه فائِده ده په نسبت دَ مخکښ دواړه فائِدو۔

[٥] دا تاکید دے دَپاره دَ امتثال دَتیرشوی احکامو او دَ تقویٰ دوه فائِدے نورے ذکرکوی۔

فائِده: هرکله چه دَ تقویٰ درے درجے دی لکه په سورۀ مائده (٩٣) کښ تیرے شویدی دَ دے وجے نه په دے سورت کښ هم درے کرته تقوٰی ذکر شوه۔ اوله درجه کښ پوره عقیده دَ توحید ساتل اودَ هرقسم شرك نه ځان بچ کول۔ دویمه درجه دَ تقویٰ دَ احکامو دَ اللّٰه تعالیٰ پوره پابندی کول دی په امتثال دَ اوامروسره اواجتناب دَنواهی سره نو ورسره ئے یسرذکرکړو چه پدے سره مشکلات اسانیږی۔ دریمه درجه استقامت او دَ شبهاتونه ځان ساتل دی نودَ هغے دوه فائِدے ذکرکړے دَ سیئاتو معافی او دَ اجر وثواب ډیروالے (واللّٰه اعلم)۔

أُجُورَهُنَّ ۚ وَأْتَمِرُوا بَيْنَكُمْ بِمَعْرُوفٍ ۖ وَإِنْ تَعَاسَرْتُمْ فَسَتُرْضِعُ لَهُ أُخْرَىٰ ۝٦ لِيُنْفِقْ ذُو سَعَةٍ
مِنْ سَعَتِهِ ۖ وَمَنْ قُدِرَ عَلَيْهِ رِزْقُهُ فَلْيُنْفِقْ مِمَّا آتَاهُ اللَّهُ ۚ لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا مَا
آتَاهَا ۚ سَيَجْعَلُ اللَّهُ بَعْدَ عُسْرٍ يُسْرًا ۝٧ وَكَأَيِّنْ مِنْ قَرْيَةٍ عَتَتْ عَنْ أَمْرِ رَبِّهَا وَرُسُلِهِ
فَحَاسَبْنَاهَا حِسَابًا شَدِيدًا وَعَذَّبْنَاهَا عَذَابًا نُكْرًا ۝٨ فَذَاقَتْ وَبَالَ أَمْرِهَا وَكَانَ عَاقِبَةُ
أَمْرِهَا خُسْرًا ۝٩ أَعَدَّ اللَّهُ لَهُمْ عَذَابًا شَدِيدًا فَاتَّقُوا اللَّهَ يَا أُولِي الْأَلْبَابِ ۚ الَّذِينَ آمَنُوا ۚ

مزدوری دَ دوی او جرګه کوئے په مینځ خپل (په باره دَ بچی کښ) کښ په ښه طریقے سره او که چرے تاسو سختی کوئے دَ یو بل سره (په مزدورئ دَ پئی ورکولو کښ) نو پئ به ورکړی دهٔ ته بله زنانه (٦) خرچ دِ کوی خاوند دَ فراخئے خپلے (دَ مال په لحاظ سره) او هغه څوك چه تنګه وه په هغه باندے روزی دَ هغه نو خرچ دِ اوکړی دَ هغه مال نه چه ورکړے دے دهٔ ته اللّٰه تعالیٰ تکلیف نه ورکوی اللّٰه تعالیٰ هیڅ نفس ته مګر برابر دَ هغه طاقت چه ورکړیدے دهٔ ته زر ده چه پیدا به کړی اللّٰه تعالیٰ روستو دَ تنګسیا نه اسانتیا (٧) او ډیر کلو والو چه نافرمانی اوکړه دَ حکم دَ رب خپل نه او دَ رسولانو دَ هغه نه نو حساب اوکړو مونږ دَ هغوی سره حساب سخت او عذاب ورکړو مونږ هغوی ته عذاب ډیر بد (٨) نو او څکله اوکړو مونږ دَ هغوی سره حساب سخت او عذاب ورکړو مونږ هغوی ته عذاب ډیر بد (٨) نو او څکله هغوی سزا دَ کار خپل او شو عاقبت دَ کار دَ هغوی تاوان (٩) تیار کړے دے اللّٰه تعالیٰ دوی لره عذاب سخت (په اخرت کښ) نو ویره کوئے دَ اللّٰه تعالیٰ نه اے صفا عقل والو هغه کسان چه ایمان ئیے راوړے دے

[٦] په دے ایت کښ شپږ جملے اوشپږ احکام ذکر کړی دی اول حکم ﴿اَسْكِنُوْهُنَّ﴾ وجوب دَسکنیٰ دَمطلّقے که په طلاق رجعی سره وی اوکه بائن سره وی په (١) کښ سکنیٰ دَ مطلقے رجعی دَپاره خاص وؤاودلته عام دے ﴿وَاِنْ تَعَاسَرْتُمْ﴾ دا هم خطاب دے موراوپلار دَ بچی ته چه دَ اجرت دَ رضاعت په باره کښ اختلاف راشی اویوبل سره تنګسیاکوی یعنی مسامحه اواتفاق نه کوی نوپلاردَ بچی لره لازم دی چه بله مرضعه په اجرت سره اونیسی۔

[٧] په دے ایت کښ څلورجملے دی دَ مسئلے دَ انفاق سره متعلق دی ﴿لِيُنْفِقْ ذُوْ سَعَةٍ مِّنْ سَعَتِهٖ﴾ دا امردَ انفاق عام دے انفاق دَ خاوند په ښځه باندے او انفاق دَپلار په اولاد باندے او انفاق په مرضعه باندے اودَ دے نه علاوه انفاق فی سبیل اللّٰه اونورنفقاتوواجبوته هم شامل دے دارنګ خرچ کول دَانسان په خپل ځان باندے هم پدے کښ داخل دی ﴿اِلَّا مَآ اٰتٰهَا﴾ هرکله چه په دے ایت کښ صرف دَانفاق دَمال مسئله ده دَ دے وجے نه اَتاهَا ئیے ذکرکړواوهرکله چه عام عبادات اوتکالیف مرادوی نوهلته الاوسعها(عام لفظ) ذکر کیږی۔ ﴿سَيَجْعَلُ اللّٰهُ بَعْدَ عُسْرٍ يُّسْرًا﴾ دا تسلی ده چه هرکله انسان په هرحالت کښ دَاللّٰه تعالیٰ دَحکم تابعداری کوی په مالدارئے اوغریبئے کښ نواللّٰه تعالیٰ به په هغه باندے اسانتیاپه دنیااو اخرت کښ راولی۔

[٨،٩] روستودَبیان دَاحکاماواحدود شرعیه نه تخویف دنیوی اواخروی ذکرکوی دَپاره دَتحذیردَ مخالفت کولودَ دے حکمونونه اوتخویف په پنځه طریقوسره ذکرشویدے مراد دَ دے نه وحی دَ اللّٰه تعالیٰ ده ﴿وَرُسُلِهٖ﴾ یعنی دَ توحید او رسالت دواړونه ئیے نافرمانی اوبغاوت کړے وؤ ﴿فَحَاسَبْنَاهَا﴾ دَ سخت

قَدْ اَنْزَلَ اللّٰهُ اِلَيْكُمْ ذِكْرًا ۝١٠ رَّسُوْلًا يَّتْلُوْا عَلَيْكُمْ اٰيٰتِ اللّٰهِ مُبَيِّنٰتٍ لِّيُخْرِجَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ مِنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ ؕ وَمَنْ يُّؤْمِنْ بِاللّٰهِ وَيَعْمَلْ صَالِحًا يُّدْخِلْهُ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ؕ قَدْ اَحْسَنَ اللّٰهُ لَهٗ رِزْقًا ۝١١ اَللّٰهُ الَّذِيْ خَلَقَ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ وَّمِنَ الْاَرْضِ مِثْلَهُنَّ ؕ يَتَنَزَّلُ الْاَمْرُ بَيْنَهُنَّ لِتَعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۙ وَّاَنَّ اللّٰهَ قَدْ اَحَاطَ بِكُلِّ

یقیناً نازل کړے دے اللّٰه تعالیٰ تاسو ته یاداشت (۱۰) رسول چه لولی په تاسو باندے ایاتونه دَ اللّٰه تعالیٰ بنکاره کوؤنکی دَ حکمونو دَ دے دپاره چه اوباسی هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے او عملونه ئے کړیدی په برابر دَ سنت سره دَ تیارو نه رنړا ته او چا چه ایمان راوړو په اللّٰه تعالیٰ او عمل ئے کوؤ برابر دَ سنت سره داخل به کړی هغه لره جنتونوته چه بهیږی لاندے دَ هغے نه ولے همیشه به وی په هغے کښ همیشه یقیناً خائسته کړیده اللّٰه تعالیٰ دهٔ لره روزی (په جنت کښ) (۱۱) اللّٰه تعالیٰ هغه ذات دے چه پیدا کړیدی اوو اسمانونه او دَ زمکونه پشان دَ اسمانونو راکوځیږی حکم دَ اللّٰه تعالیٰ په مینځ دَ دوی کښ دَ دے دپاره چه یقین اوکړئے تاسو چه یقیناً اللّٰه تعالیٰ په هر څیز باندے قدرت والا دے او یقیناً اللّٰه راګیر کړے دے هر

حساب نه مراد دا دے چه هیڅ جرم ئے ورته معاف کړے نه دے دَ ټولو ګناهونو په سزا سره ئے را اونیول۔ ﴿وَعَذَّبْنَاهَا عَذَابًا نُّكْرًا﴾ دا په دنیا کښ وؤ اشاره ده هغه عذابونوته چه په قوم نوح علیه السلام اوعاد اوثمود او اصحاب مدین اومؤتفکات وغیره باندے رالیږلے شوی وؤ ﴿فَذَاقَتْ وَبَالَ اَمْرِهَا﴾ مراد دَ امرنه نافرمانی کول په کفر اوشرك او انکار رسالت سره دی۔

[۱۰] په دے کښ تخویف اخروی ذکرکوی په اوله جمله کښ اوایمان بالاخرة اوصدق دَقرآن هم په دے ایت کښ ذکر کوی ﴿فَاتَّقُوا اللّٰهَ﴾ روستودَ ذکرد عذاب دَ تیرشوی خلقونه تنبیه ده اوامرپه تقویٰ دے، دے امت ته ځکه چه تقویٰ دعویٰ دَ دے سورة ده ﴿يَا اُولِي الْاَلْبَابِ﴾ دا هغه خلق دی چه دَ هغوی عقلونه دَمقابلے دَ وهم نه اودَشکونوشبهاتونه محفوظ دی ﴿قَدْ اَنْزَلَ اللّٰهُ اِلَيْكُمْ ذِكْرًا﴾ مراد دَ دے نه قرآن دے اوپه دے کښ تاکید دے چه اے مؤمنانوغفلت اونکړئے ځکه چه تاسو سره دَ تزکیرکتاب موجود دے۔

[۱۱] ﴿رَسُوْلًا﴾ په دے کښ صدق دَ رسول ذکرکوی ﴿يَتْلُوْا عَلَيْكُمْ﴾ صدق دَقرآن ته اشاره ده اودا دلیل دے چه مراد دَ رسول نه محمد ﷺ دے ﴿مُبَيِّنٰتٍ﴾ بینات اکثریه عقیده کښ استعمالیږی اومبینات په احکامو او اعمالوکښ لکه سورة نور(٣٤،٤٦) کښ هلته هم احکام وؤاوپه دے سورة کښ هم احکام دی ﴿وَمَنْ يُّؤْمِنْ﴾ دابشارت دے روستودَ اخراج دَ ظلماتونه ﴿قَدْ اَحْسَنَ اللّٰهُ لَهٗ رِزْقًا﴾ مراد دَ احسان نه وسعت اودَ رزق نه مراد رزق دَ جنت دے یا دا بشارت دنیوی دے روستو دَ بشارت اخرویه نه او په دنیا کښ احسان دَ رزق په (۳) کښ ذکر شو۔

شَیۡءٍ عِلۡمًا ﴿۱۲﴾ ع ۲ ۱۸

څیز په علم څپل کښ (۱۲)

[۱۲] په دے ایت کښ پنځه جملے دی اوټولے دلالت کوی په توحید باندے په رد دَ شرك فی التصرف اوفی العلم سره ﴿وَمِنَ الۡاَرۡضِ مِثۡلَهُنَّ﴾ مماثلت په بعضِ صفاتوکښ وی نودلته مماثلت په عددکښ دے چه اُوه دی اودارنګ احادیث صحیحه کښ تصریح راغلے ده چه زمکے اُوه دی لکه حدیث دَبخاری دے چه چا په ظلم سره دَ بل چا دَ زمکے نه دَ یو لیشت په مقدار سره واخستله نو دَ قیامت په ورځ به دَ دهٔ غاړے ته دَ اوؤ زمکونه اچولے شی اودا حدیث اشاره کوی چه دازمکے دَیوبل دَپاسه طبقه طبقه دی۔ لیکن هغه حدیث چه امام بیهقی په کتاب الاسماء والصفات کښ ذکرکړے دے چه په هره زمکه کښ ادم دے ستاسودَ ادم پشان اونوح علیه السلام دے (الیٰ اخره) داحدیث صحیح نه دے بیهقی وئیلی دی چه دا حدیث شاذ دے اودَ دے متابع هم نیشته۔ ابن کثیراوامام ذهبی هم داسے وئیلی دی اوابوحیان په بحرالمحیط کښ وئیلی دی چه دابیشکه موضوعی روایت دے اودَ واقدی کذّاب نه نقل دے اودَ دے په مقابله کښ صحیح دَحاکم (صاحب دَ مستدرك)ته اعتبارنیشته اوپه نبراس کښ وئیلی دی چه دَ امام نووی نه نقل ده چه دا حدیث ثابت نه دے﴿لِتَعۡلَمُوۡۤا﴾ مطلب دا دے چه پیدائش دَ دے عالم بره اوخکته دلیل دے په دوه صفتونو دَ اللّٰه تعالیٰ باندے چه قدرت ئے دے په هرڅیزباندے اوعلم لری دَهرڅیز یا مقصد دا دے چه دَ وحی منزل خلاصه علم دَ دوؤمسئلودے اوله مسئله عموم دَ قدرت دَاللّٰه تعالیٰ دے اودویمه علم دَاللّٰه تعالیٰ په هرڅیزباندے دادوه صفتونه خلاصه ده دَټولوصفتونو الٰهیواودَ دے وجے نه عقلی دلیلونه دَتوحید په قرآن کریم کښ په دے دوه صفتونوباندے مشتمل دی۔

سُوْرَةُ التَّحْرِيْم (٦٦) مَدَنِيَّةٌ (١٠٧) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ١٢ رُكُوْعَاتُهَا ٢

يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَآ اَحَلَّ اللّٰهُ لَكَ ۚ تَبْتَغِيْ مَرْضَاتَ اَزْوَاجِكَ ۭ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ①

اے نبی ولے بند وے په ځان باندے هغه څیز چه حلال کړیدے الله تعالیٰ تا لره لټوے په دے سره خوشحالی دَ بیبیانو ستا او الله تعالیٰ بخنه کوؤنکے رحم کوؤنکے دے (۱)

سورة التحريم

اونورنومونه ئے سورة النبی اوسورة لم تحرم اوسورة المتحرم دی۔

ربط: دَ دے سورة دَمخکښ سورة سره په ډیرو وجوهوسره دے اوله وجه دا ده چه مخکښ امورمتعلقه دَطلاق ذکرکړل اوس په دے سورة کښ هغه اخلاق ذکرکوی چه منع کوؤنکی دَطلاق دی۔دویمه وجه دا ده هرکله چه ذکرکړل په مخکښ سورة کښ احکام دَجدائیے دَښځے اوخاوند، نو په دے سورة کښ ذکرکوی هغه احکام چه په هغے سره جوړخ راځی دَښځے خاوند۔

دعویٰ دَ سورة : ذکردَ حقوق دَ زوجیت۔ او عدم افاده دَ زواج دَ پاره دَ نجات دَ عذاب نه ۔ اونهه اسماءِ حسنیٰ ذکرکوی دَپاره دَ توحید۔

خلاصه دَ سورة دا ده: دوه خطابات دَ نبیﷺ اودوه دَ مؤمنانو۔په اول خطاب دَنبیﷺ کښ مقصد حرج لرے کول دی دَ هغه نه په باره دَ رضا کولودَ بیبیانوکښ په هغے څیزکښ چه دَ هغوی حق نه دے۔ بیا ترغیب دے بیبیانوته په ساتلودَ رازونودَ نبیﷺ کښ اودَ هغه دَخلاف (تظاهر) نه منع کول دی اودارنګ ترغیب دے دوی ته په پنځه اخلاقِ حسنه سره داتر(۵) پورے دی۔ بیا ذکردَحق دَخاوند دے په پنځه باندے۔ بیا اول خطاب دے مؤمنانوته چه په هغے کښ ذکرکوی حق دَ ښځے په خاوند باندے په هغه امورو چه دَ عذاب نه بچ کول کوی او بیا دویم خطاب دے مؤمنانوته اوپه هغے کښ ترغیب دے توبے ته دَپاره دَ بچ کیدلو دَ اُور نه اوبشارت اخرویه دے۔ او بیا دویم خطاب دَ نبیﷺ دے په جهاد سره دپاره دَ دے چه په معامله دَ بیبیانو سره مشغول نشی دَ دے اهم مقصدنه ۔ بیا دَ دوه وهمونو جوابونه دی اول وهم دا دے چه هرکله دَ ښځے عقیده دَخاوند دَ عقیدے نه مخالفه وی په سبب دَ شرك کولودَ ښځے نو ایا صرف ښځه کیدل دَ مؤحد سړی دِے له فائِده ورکوی؟ حاصل جواب دا دے چه نه ورکوی او مثال ئے ذکر کړو دَ ښځے دَ نوحعليه السلام او دَ ښځے دَ لوطعليه السلام۔ دویم وهم دا دے چه هرکله ښځه مؤحده وی او خاوند مشرك کافروی نو دا نکاح دِے ښځے ته ضرر او نقصان ورکوی؟ حاصل جواب دا دے چه هیڅ ضرر نه ورکوی ما سیوا دَ ابتلاء نه او مثال ئے ذکرکړے دے په امرءة فرعون سره اوپه دے مثال کښ سرهٗ دَ ذکر دَ حال دَ مریم نه تشجیع هم ده مؤمنانوته په استقامت دَ دین دَ الله تعالیٰ سره۔

تفسیر

[۱] مفسر قرطبی اواکثرومفسرینودَ دے سببِ نزول کښ ډیراقوال لیکلی دی لیکن هغه روایت چه په

قَدْ فَرَضَ اللّٰهُ لَكُمْ تَحِلَّةَ اَيْمَانِكُمْ ۚ وَاللّٰهُ مَوْلٰىكُمْ ۚ وَهُوَ الْعَلِيْمُ الْحَكِيْمُ ۝ وَاِذْ اَسَرَّ النَّبِيُّ اِلٰى بَعْضِ اَزْوَاجِهٖ حَدِيْثًا ۚ فَلَمَّا نَبَّاَتْ بِهٖ وَاَظْهَرَهُ اللّٰهُ عَلَيْهِ عَرَّفَ بَعْضَهٗ وَ

یقیناً مقرر کړی دی اللّٰه تعالیٰ تاسو لره پرانستل دَ قسمونو ستاسو او اللّٰه تعالیٰ مولا ستاسو دے او خاص هغه په هر څه پوهیږی حکمتونو وا لا دے (۲) او کوم وخت چه پټه اوکړه نبی(ﷺ) بعض دَ بیبیانو خپلو ته یوه خبره نو هر کله چه دے خبر کړه په هغے سره بله او خبر ورکړو اللّٰه تعالیٰ په هغے باندے نبی(ﷺ) لره نو ویخودله یو خبره او

سند صحیح سره امام بخاری نقل کړیدے هغه دا دے چه نبی(ﷺ) دَ بی بی زینب رضی اللّٰه عنها کور کښ دَ کښین شربت اوخښلونو بی بی عائشة رضی اللّٰه عنها اوبی بی حفصه رضی اللّٰه عنها دَ بنتوب دَ غیرت دَ وجے نه اتفاق اوکړوچه نبی(ﷺ) چه هریوکره راشی نوورته به اُوایو چه ستا نه دَمغافیر بوئی ځی ایاتا مغافیرخورلی دی (مغافیرجمع دَ مغفورده اودے ته عرفط هم وئیلے شی دا دَ یوقسم بوټی کَل دے چه دَ عربومچو(نحل) به هغه خورلواودَ هغے نه به شهد پیداکیدل نوپه هغه شهدکښ به دَ هغه بوټی بوئی وؤنودَ دوی قول چه ستانه دَمغافیربوئی ځی داخبره رشتیاوه) اودویمه خبره خوپه طوردَ تپوس سره ده چه ایاتا مغافیرخورلی دی دَتپوس په جمله کښ صدق اوکذب نه راځی (اونبی(ﷺ) به دَ بدبوئیے دَ څیزدَ استعمال نه ځان بچ ساتلو)نوهغه اوفرمائیل چه ما مغافیرنه دی خورلی لیکن دَشهد شربت مے څښلے دے ائنده به نه څښم اوپه ما دِ حرام وی، اوبل صحیح سند والاروایت هم شته لیکن صحیحینونه دے راوړے دَ هغے اختصاردادے چه رسول اللّٰه(ﷺ) حفصه رضی اللّٰه عنها ته وئیلی وؤچه ماریه رضی اللّٰه عنها موردَ ابراهیم دِپه ماباندے حرامه وی اوپه دواړه روایتونوکښ داهم شته چه نبی(ﷺ) حفصه رضی اللّٰه عنها ته اوفرمائیل چه دا راز به نه بنکاره کوے اوټولوخبروکښ مقصد دَ نبی(ﷺ) دا وؤچه نورے بیبیانے رضاوی اوزینب اوماریه هم خفه نشی نواللّٰه تعالیٰ دَ دے سورة ابتدائي ایاتونه نازل کړل چه ﴿يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَآ اَحَلَّ اللّٰهُ لَكَ﴾ دلته تحریم په معنیٰ لغوی سره دے چه منع ده او فائِده اخستل دَ یوځیزنه نهٔ ده مرادپدے عقیده دَ تحریم دَ ما اَحلَّ اللّٰه ځکه چه داسے عقیده لرل خو کفر دے او نبی(ﷺ) دَ هر معصیت نه پاك وی داسے خطیب شربینی ذکرکړی دی۔

[۲]﴿قَدْ فَرَضَ اللّٰهُ﴾فرض په معنیٰ دَتقدیرسره دے اوتقدیردَکفارے په سورة مائده (۸۹) کښ ذکرکړے شوے دے ﴿اَيْمَانِكُمْ﴾ جمع دَ یمین ده قسم ته وئیلے کیږی دا اشاره ده چه تحریم دَ ما احل اللّٰه په معنیٰ دَ قسم کښ دے که خوراك څښاك وغیره وی یا بنځه وی اودا قول امام بخاری دَ ابن عباس رضی اللّٰه عنهما نه روایت کړے دے اوپه دے کښ قرطبی اتلس اقوال ذکرکړی دی لیکن غوره دا ده چه چا دَ خوراك، څښاك، لباس او بنځے وغیره په باره کښ اُوئیل چه دا دِ په ما باندے حرام وی لیکن عقیده دَ حرمتِ شرعیه حقیقیه ئے نه وی نو دا قسم دے او په هغے کښ کفاره دَ قسم واجب ده۔

اَعْرَضَ عَنْۢ بَعْضٍ ۚ فَلَمَّا نَبَّاَهَا بِهٖ قَالَتْ مَنْ اَنْۢبَاَكَ هٰذَا ؕ قَالَ نَبَّاَنِيَ الْعَلِيْمُ الْخَبِيْرُ ۝٣
اِنْ تَتُوْبَاۤ اِلَى اللّٰهِ فَقَدْ صَغَتْ قُلُوْبُكُمَا ۚ وَاِنْ تَظٰهَرَا عَلَيْهِ فَاِنَّ اللّٰهَ هُوَ مَوْلٰىهُ
وَجِبْرِيْلُ وَصَالِحُ الْمُؤْمِنِيْنَ ۚ وَالْمَلٰٓئِكَةُ بَعْدَ ذٰلِكَ ظَهِيْرٌ ۝٤ عَسٰى رَبُّهٗۤ اِنْ طَلَّقَكُنَّ

مخ ئے واړوؤ دَ بلے خبرے نه نو هرکله چه نبی(ﷺ) خبر ورکړو هغے بی بی ته په هغے خبرے سره هغے اُوئیل چا تاله دا خبر درکړے دے هغه اُوئیل خبر راکړے دے ماته اللّٰه تعالیٰ چه په هر څه پوهه دے خبردار دے (٣) که چرے توبے اوباسئے اللّٰه تعالیٰ ته نو یقیناً جوړدی ستاسو زړونه (دپاره دَ توبے) او که چرے تاسو ډلے جوړوئے په مخالفت دَ هغه کښ نو یقیناً اللّٰه تعالیٰ مولا دَ هغه دے او جبرئیل(علیه السلام) او نیکان مؤمنان او نور ټول ملائك روستو دَ دے نه دَ هغه ډله کوؤنکی دی (٤) امید دے چه رب دَ نبی(ﷺ) که چرے (دا نبی) طلاق ورکړی دے ښیبانو ته

[٣] دا هم متعلق دے دَ واقعے سره ﴿بَعْضِ اَزْوَاجِهٖ﴾ مراد دَ دے نه حفصه رضی اللّٰه عنها ده په مطابق دَ غوره قول باندے ﴿حَدِيْثًا﴾ مراد دَ دے نه تحریم دَ شهد دے او منع کول دَ هغے دی دَ بنکاره کولودَ دے رازنه اوبل قول کښ تحریم دَ ماریه رضی اللّٰه عنها مراد دے دا دلیل دے چه خاوند له جائزدی چه په بعضِ رازونو سره بعضے ښیبانے خاص کړی ﴿وَاَظْهَرَهُ اللّٰهُ عَلَيْهِ﴾ په دے کښ دلیل دے چه نبیﷺ خوپه غیب باندے نه پوهیدلوبلکه په علم کښ دَ اللّٰه تعالیٰ اخبارته محتاج وؤ﴿عَرَّفَ بَعْضَهٗ﴾ تعریف په معنیٰ دَ الزام اوملامتیا ورکولودے یعنی نبیﷺ حفصه رضی اللّٰه عنهاته اوئیل چه تاولے زما رازخورکړے دے اوعائشة رضی اللّٰه عنها ته دے حال وئیلے دے ﴿قَالَتْ مَنْ اَنْۢبَاَكَ هٰذَا﴾ دا دلیل دے چه دَ صحابه کرامواودَ ښیبانودَ نبیﷺ دا عقیده وه چه نبیﷺ حاضر اوناظر اوغیب دان نه دے۔

[٤] په دے ایت کښ ترغیب دے توبه کولوته ﴿فَقَدْ صَغَتْ قُلُوْبُكُمَا﴾ صغت دَ صوغ نه دے مائل کیدلواوجوړیدلوته وئیلے کیږی که په ښه طریقه سره وی یابدے طریقے سره وی اوزیغ همیشه استعمالیږی په بده طریقه کښ نو مراد دا دے چه ستاسو زړونه توبے طرف ته مائل دی اودَ توبے دَپاره جوړ شویدی ﴿قُلُوْبُكُمَا﴾ قانون دَ عربیت دا دے چه تثنیه بلے تثنیے ته مضاف کولوکښ ثقل ګنړی نودَ اول تثنیه نه جمع جوړه کړی نودا افصح کلام دے او افراد هم جائزدے سرهٗ دَ فصاحت نه اوتثنیه راوړل صرف جوازلری۔ اوخطاب په ضمیرد کماکښ عائشه اوحفصه رضی اللّٰه عنهما ته دے لکه چه حدیث دَ ابن عباس رضی اللّٰه عنهماکښ امام بخاری نقل کړے دے ﴿وَاِنْ تَظَاهَرَا عَلَيْهِ﴾ تظاهردَ یوبل ملاتیګول اومددکول دی ﴿وَجِبْرِيْلُ﴾ غوره دا ده چه دا مبتدا ده اومابعد په دے باندے عطف دے اوظهیر ئے خبردے اوهغه جنس په معنیٰ دَ جمع سره دے اومفرد ئے دَ دے وجے نه ذکرکړو چه دَ دوی په مینځ کښ پوره اتحاد او اتفاق دے ګویاکه یو دی ﴿وَصَالِحُ الْمُؤْمِنِيْنَ﴾ صالح اسم جنس دے ټول مؤمنان سابقین او روستنی ټول پکښ داخل دی چه هغوی اکرام دَ رسول اللّٰه ﷺ کوی اوپه هغه باندے درود وائی اودَ هغه دَ سنت تابعداری کوی۔

اَنْ يُّبْدِلَهٗٓ اَزْوَاجًا خَيْرًا مِّنْكُنَّ مُسْلِمٰتٍ مُّؤْمِنٰتٍ قٰنِتٰتٍ تٰٓئِبٰتٍ عٰبِدٰتٍ سٰٓئِحٰتٍ
ثَيِّبٰتٍ وَّاَبْكَارًا ۝٥ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قُوْٓا اَنْفُسَكُمْ وَاَهْلِيْكُمْ نَارًا وَّقُوْدُهَا النَّاسُ
وَالْحِجَارَةُ عَلَيْهَا مَلٰٓئِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ لَّا يَعْصُوْنَ اللّٰهَ مَآ اَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُوْنَ مَا
يُؤْمَرُوْنَ ۝٦ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَا تَعْتَذِرُوا الْيَوْمَ ۭ اِنَّمَا تُجْزَوْنَ مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ۝٧ ع ١٩

نو بدله کښ به ورکړی نورے بیبیانے چه غوره به وی ستاسونه مسلمانانے ښکاره ایمان لرونکے په زړونو تابعداری کوؤنکے دَ حکم توبے کوؤنکے بندگی کوؤنکے (په توحید سره) روژے نیوؤنکے کونډے او جینکے (٥) اے ایمان والو بچ کوئے ځانونه خپل او بال بچ خپل دَ اور نه چه خشاك دَ هغے خلق دی او ګټے دی په هغے اور باندے مقرر دی ملائك سخت (طبیعت والا) طاقتور نافرمانی نه کوی دَ اللّٰه تعالیٰ نه دَ هغے چه امرئے کړے وی دوی ته او کوی دوی هغه څه چه دوی ته حکم ورکیدیشی (٦) (اوبه وئیلے شی) اے کفر والو بهانے مه کوئے نن ورځ یقیناً بدله درکیدیشی تاسو ته دَ هغه عملونو چه تاسو کوئے (٧)

[٥] په دیکښ تنبیه اوتحذیردے بیبیانودَ نبیﷺ ته په تطلیق اوتبدیل سره کله چه دوی توبه اونکړی اوتظاهرکوی۔ لیکن دوی توبه کړیده اوتظاهرئیے پریخودلونو نبیﷺ دوی لره طلاق نه دے ورکړے او روایت دَ طلاق دَحفصه رضی اللّٰه عنها ثابت نه دے ﴿عَسٰى رَبُّهٗٓ﴾ عسٰی دَ طرف دَ اللّٰه تعالیٰ نه دَ وجوب دَپاره وی لیکن په هغه وخت چه څه تعلیق نه وی او دلته ئیے خو په شرط پورے معلق کړیدے شرط دادے چه﴿اِنْ طَلَّقَكُنَّ﴾ لیکن نبی ﷺ طلاق نه دی ورکړی ﴿اَنْ يُّبْدِلَهٗٓ اَزْوَاجًا﴾ په زنانه باندے تطلیق لوے مصیبت وی او روستودَ طلاق نه بله ښځه په بدل کښ نکاح کول خوډیر زیات مصیبت اوغم وی دَ دے وجے دادواړه کارونه (تطلیق او ابدال) ئیے ذکرکړل ﴿خَيْرًا مِّنْكُنَّ﴾ (سوال) دا دلالت کوی چه دَ نبیﷺ دَ ازواجونه نورے زنانه غوره شته؟ جواب: دادلالت نیشته ځکه چه ابدال دَ غوره ښځے په طریقه دَ فرض (تقدیر) سره دے نه په طریقه دَ وقوع سره یعنی که بالفرض ازواج دَنبیﷺ تظاهرکوی اوعصیان کوی نوضرور راتلونکی صفتونو والا زنانه به دَ دوی نه غوره وی لیکن توبه ئیے اوویستله اوتظاهردَ نبیﷺ ئیے پریخودلواوراتلونکی صفتونه پکښ ټول موجود وؤنومعلومه شوه چه دَ هغوی نه نورے زنانه غوره نیشته۔ اوبل دلیل دا دے چه که دَ ازواج مطهرات دَ نبیﷺ نه نورے زنانه غوره وے نو بیا لازمیږی چه اللّٰه تعالیٰ نبی خپل لره ترمرګه پورے دَ ناقِصو (چه غوره نه وی) زنانوسره اوساتلو اوالے اواعلے صفت نه ئیے محروم کړواودا خوباطله خبره ده نویقیناً معلومه شوه چه ازواج دَ نبیﷺ دَ ټولوزنانونه غوره دی ﴿مُسْلِمٰتٍ﴾ شپږصفتونه دَکمال دَعبدیت دی په انسان کښ که نارینه وی اوکه زنانه وی۔ مُسْلِمَاتٍ، اسلام چه دَ ایمان نه وړاندے ذکرشی په دے کښ اخلاص دَ پوره انقیاد سره مرادوی اواخلاص دَ تصدیق دَ پاره شرط دے دَ دے وجے نه وصف دَ اسلام ئیے په ایمان باندے مقدم ذکرکړو ﴿سَآئِحٰتٍ﴾ سیاحت په اصل کښ ګرځیدل په زمکه کښ دی اومفسرینودَ دے درے معانے ذکرکړی دی روژے نیوؤنکے، هجرت کوؤنکے ګرځیدونکے دَ طاعت دَپاره۔

[٦] هرکله چه دَ مخکښ حاصل دا وؤچه په ښځه باندے دَ خاوند حق واجب دے دَ هغه رازونه به نه خوروی دَ هغه مقابله کښ به تظاهرنه کوی بلکه ځان کښ به دَصالحوزنانوصفتونه پیداکوی نواوس دَ

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا تُوْبُوْٓا اِلَى اللّٰهِ تَوْبَةً نَّصُوْحًا ؕ عَسٰى رَبُّكُمْ اَنْ يُّكَفِّرَ عَنْكُمْ سَيِّاٰتِكُمْ وَيُدْخِلَكُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۙ يَوْمَ لَا يُخْزِي اللّٰهُ النَّبِيَّ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ ۚ نُوْرُهُمْ يَسْعٰى بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَبِاَيْمَانِهِمْ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَآ اَتْمِمْ لَنَا نُوْرَنَا وَاغْفِرْ لَنَا ۚ اِنَّكَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝٨ يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ جَاهِدِ الْكُفَّارَ وَالْمُنٰفِقِيْنَ وَاغْلُظْ

اے ایمان والو توبے اوباسئے اللّٰه تعالیٰ ته توبے اخلاص والا امید دے چه رب ستاسو به لرے کړی ستاسو نه بدئے ستاسو او داخل به کړی تاسو جنتونوته چه بهیږی لاندے دَ هغے نه ولے په هغه ورځ چه نه به شرمنده کوی اللّٰه تعالیٰ نبی لره او هغه کسانو لره چه ایمان ئے راوړے دے دَ هغه په ملګرتیا کښ ،رنړا دَ دوی به منلے وهی مخے دَ دوی ته او په خی طرفونو دَ دوی دوی به وائي اے ربه زمونږ پوره اوساتے مونږ لره رنړا زمونږ او بخنه اوکړے مونږ ته یقیناً ته په هر څیز باندے قدرت والا ئے (٨) اے نبی جهاد کوه دَ کافرانو سره او دَ منافقانو سره او سختی اوکړه

بښځوحق په خاوند باندے ذکرکوی ﴿قُوْٓا اَنْفُسَكُمْ وَاَهْلِيْكُمْ نَارًا﴾ اهل به بچ کوی په امر بالمعروف اونهی عن المنکرسره او په ادابوخودلو سره په عاموحالاتوکښ اومونځ خودلواوامرکولوسره مخکښ دَ بلوغ نه ﴿وَقُوْدُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ﴾ النّاس مراد دَ دوی نه کافران مشرکان دی په دلیل دَ ایت دَسورة العمران(١٠) اوسورة بقره (٢٤) سره ﴿عَلَيْهَا مَلَائِكَةٌ﴾ عدد دَ هغه ملائکو په سورة مدثر (٣٠) کښ ذکر کړیدے اونوم دَ هغوی زبانیه په سورة علق(١٨) کښ ذکردے ﴿لَا يَعْصُوْنَ اللّٰهَ مَآ اَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُوْنَ مَا يُؤْمَرُوْنَ﴾ فرق دَ دواړه جملو دا دے چه مراد دَ اول نه دا دے چه انکار دَ اوامرو دَ اللّٰه تعالیٰ نه نه کوی او مراد دَ دویم دا دے چه عمل کوی په ماموراتو باندے۔ دویم فرق داچه اوله جمله په باره دَ زمانه ماضی کښ ده او دویمه په باره دَ زمانه مستقبله کښ ده۔

[٧] دا ایت هم دَ تخویف اخروی سره تعلق لری او دفع دَ وهم ده که څوك اووائي چه دَملائکو نه خونښی بچ کیدلے لیکن کیدے شی چه اللّٰه تعالیٰ ته عذرونه پیش کړی او هغه ورله عذرونه قبول کړی نوپدے ایت کښ جواب دے۔

[٨] هرکله چه مخکښ ایت کښ معلومه شوه چه دَ عذاب دَ اللّٰه تعالیٰ نه په بهانوسره نجات نه حاصلیږی بلکه صرف په توبه سره نو اوس ترغیب ورکوی توبه کولو ته او توبه کول فرض عین دی په هر حالت کښ او خصوصاً په حالت دَ ګناه کولو کښ ﴿تَوْبَةً نَّصُوْحًا﴾ دا دَ نصح نه ماخوذ دے دَ خیری نه پاکول یا په معنیٰ دَجامے ګنډلوسره دے نو په اوله معنیٰ سره اخلاص په توبه کښ مراد دے اوپه دویمه معنیٰ سره دامناسبت دے چه په ګناه کولوسره تعلق دَاللّٰه تعالیٰ سره اوشلیدلونوداسے توبه پکارده چه هغه بیا اوګنډلے شی۔ اوابن کثیردا قول غوره کړے دے چه توبه نصوح دا ده چه ګناه کول فی الحال پریږدی اوپه تیرشوی باندے پښیمانه شی اوعزم اوکړی چه ګناه به نه کوی په مستقبل کښ اوکه حق دَبنده وی نوهغه دِ اداکړی ظاهرَ نورو روایاتونه دویم قول دے اوپه دے مقام کښ واقعه دَ نصوحاً شخص موضوعی واقعه ده دَ ایت سره دَ هغے تعلق نیشته ﴿لَا يُخْزِي اللّٰهُ النَّبِيَّ﴾ دَ دے ذکرد دے سورة دَ تیرشوی اياتونو سره

عَلَيْهِمْ ؕ وَمَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ؕ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ۝٩ ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوا امْرَاَتَ نُوْحٍ
وَّ امْرَاَتَ لُوْطٍ ؕ كَانَتَا تَحْتَ عَبْدَيْنِ مِنْ عِبَادِنَا صَالِحَيْنِ فَخَانَتٰهُمَا فَلَمْ يُغْنِيَا
عَنْهُمَا مِنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا وَّقِيْلَ ادْخُلَا النَّارَ مَعَ الدّٰخِلِيْنَ ۝١٠ وَضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا لِّلَّذِيْنَ
اٰمَنُوا امْرَاَتَ فِرْعَوْنَ ۘ اِذْ قَالَتْ رَبِّ ابْنِ لِيْ عِنْدَكَ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ وَ نَجِّنِيْ مِنْ فِرْعَوْنَ

په دوی باندے او ځائے دَ دوی جهنم دے او بد ځائے دَ ورګرځیدلو دے (۹) بیان کړیدے اللّٰه تعالیٰ مثال کافرانو لره د ښځے دَ نوح(علیه السلام) او دَ ښځے دَ لوط(علیه السلام) وے دا دواړه په نکاح دَ دوه بندګانو کښ دَ بندګانو زمونږ نه چه نیکان وؤ نو نقصان اوکړو دوی دَ هغوی سره نو دفع نه کړو هغوی دَ دوی نه دَ عذاب دَ اللّٰه تعالیٰ نه هیڅ شیز او اُوئیلے شو داخلے شئے اور ته سره دَ داخلیدونکو نه (۱۰) او بیان کړیدے اللّٰه تعالیٰ مثال مؤمنانو لره دَ ښځے دَ فرعون کوم وخت چه اُوئیل هغے اے ربه زما جوړ کړے ما لره ستا په خوا کښ کوټه په جنت کښ او بچ اوساتے ما لره دَ فرعون

مناسبت لری یعنی اللّٰه تعالیٰ خپل نبی دنیاکښ نه رسواکوی بلکه دَ هغه مددکوی لکه چه فان اللّٰه هو مولاه کښ ذکرشول نو دارنګ په اخرت کښ ئے هم نه شرمنده کوی ﴿وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا﴾ هغه مؤمنان چه په دنیاکښ ئے دَ نبی ﷺ ملګرتیاکړیده لکه چه صالح المؤمنین مخکښ تیرشول۔

[۹] دا دویم خطاب دے نبی ﷺ ته ربط ئے اول خطاب سره دا دے چه اے نبی دَمخلوق اودَ ییبیانودَ رضاکولو کوشش مکوه بلکه هغوی ته دعوت ورکړه اودَکافرانواومنافقانوسره جهاد اوکړه دا ډیراهم دے دارنګ ذکرشوه نرمی دَ نبی ﷺ دَکمزوری مخلوق سره چه زنانه دی نواوس هغه ته حکم ورکوی په سختئ کولودَ ناکاره خلقوسره ﴿جَاهِدِ الْكُفَّارَ وَالْمُنٰفِقِيْنَ﴾ جهادعام دے دَقتال نه هرقسم کوشش او محنت صرف کول دَپاره دَ اشاعت اودَ غلبے دَ دین حق ته جهاد وئیلے شی ﴿وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ﴾ مراد دَ دے نه دَ دوی اوصافِ قبیحه ذکرکول دی دوی ته زورنه ورکول اوپه دوی باندے حدود شرعیه قائمول دی او دا امور دَ ښکاره کافرانو سره نیشته یا مراد دَ دے نه تشدد او کلك والے دے په دین کښ په مقابله دَ دواړه ډلوکښ په اقامة دَ حجة سره په دواړو باندے او په تخویفات دنیویه او اخرویه ذکرکولو سره۔

[۱۰] په دے کښ تنبیه ده زنانوته پشان دَ ابتدا دَ سورة په ایمان اوتوحیداوپه اتباع دَ رسول ﷺ سره یعنی که اے زنانوستاسو پخپله ایمان اوعمل صالح نه وی نودَ خاوندانو عمل تاسوته فائده نه درکوی۔ اوجواب دَ وهم دے چه ایا مشرکانو زنانو اوسړوته دَ مؤحدینوخپلوی څه فائده ورکوی؟ حاصل دَ جواب دا دے چه خپلولی دَنیکانو هیڅ فائده نه ورکوی کله چه دَ نیکانونه په عقیده اوعمل کښ مخالفت وی لکه چه ښځے دَنوح علیه السلام اوښځے دَ لوط علیه السلام ته زوجیت دَپیغمرانوهیڅ فائده ورنکړه ﴿فَخَانَتَاهُمَا﴾ ابن کثیر وئیلی دی چه مراد دَ خیانت نه فاحشه اوبدکاری کول نه دی ځکه دَ انبیاؤ بییانے دَ زنا نه پاکے دی اګرچه کفراوشرك یا نفاق پکښ وؤ او قرطبی وئیلی دی چه دا دَ مفسرینواجماع ده چه دَ دے دواړو خیانت دا وؤچه دَ خاوندانونه ئے پټ کفراوشرك کوؤ اودَ هغوی رازونه به ئے دَ هغوی دشمنانوته رسول ﴿فَلَمْ يُغْنِيَا عَنْهُمَا﴾ قرطبی وئیلی دی چه دا تنبیه ده چه عذاب دَ اللّٰه تعالیٰ په طاعت سره دفع کیږی په وسیلو سره نه دفع کیږی او دا رد دے په


وَعَمَلِهٖ وَنَجِّنِيْ مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۱﴾ وَمَرْيَمَ ابْنَتَ عِمْرٰنَ الَّتِيْٓ اَحْصَنَتْ فَرْجَهَا
فَنَفَخْنَا فِيْهِ مِنْ رُّوْحِنَا وَصَدَّقَتْ بِكَلِمٰتِ رَبِّهَا وَكُتُبِهٖ وَكَانَتْ مِنَ الْقٰنِتِيْنَ ﴿۱۲﴾ ع

او دَ عمل دَ هغه نه او بچ اوساتے ما لره دَ قوم ظالمانو نه (۱۱) (اوییان کړیدے مثال) دَ مریم لور دَ عمران هغه زنانه چه بچ ئیے اوساتلو عورت خپل نو پوکے او کړو مونږ په هغے کښ دَ روح دَ طرف زمونږ نه او تصدیق کړے وؤ دے دَ کلمو دَ رب خپل او دَکتابونو دَ هغه او دا وه دَ پوره تابعداری کوؤنکو نه (۱۲)

مشرکانو باندے چه هغوی وائي چه نبی ﷺ به زمونږ دَپاره شفاعت کوی۔

[۱۱] دا جواب دَ دویم وهم دے چه ایا نیکانو نارینواو زنانوته دَ مشرکانو خپلولی ضرر ورکولے شی؟ حاصل دَ جواب دا دے چه هرکله دَ انسان عمل صالح وی نودَ مشرك سره خپلولی اونکاح وغیره مؤمن ته هیڅ ضررنه ورکوی اودا دَ پوهے دَ مؤمنانودَپاره یومثال دے دَ دے وجے نه په دے کښ ﴿لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوا﴾ اُوئیلے شو او دارنګ پدے مثال کښ تشجیع ورکول دی مؤمنانوته چه بنځے دَ فرعون دَ دینِ حق اودَ اتباع دَ موسیٰ علیه السلام دَپاره خپل ځومره شجاعت بنکاره کړواو اخرکارشهیده کړیشوه نواے مؤمنانو په تاسوهم واجب دی چه دَ توحید دَ پاره داسے شجاعت بنکاره کړئے ﴿اِمْرَاَةَ فِرْعَوْنَ﴾ اوپه دے دواړو مثالونو کښ تعریض دے عائشة او حفصه رضی اللّٰه عنهما ته په اول کښ تحذیر وؤ چه دَ نبی ﷺ دَ مخالفت نه ځان بچ اوساتئ اوپه دویم کښ ترغیب دے طاعت ته پشان دَ امراَة فرعون او دَ هغے نوم اسیه لور دَ مزاحم وه او په موسیٰ علیه السلام ئیے ایمان راوړے وؤ۔ او فرعون دے لره قسما قسم سزاګانے ورکولے او اخرکارئیے دَ هغے لاس اوخپے اوترلے اوپه سخت نمرکښ دَ هغے په بدن باندے ګرمے ګټے کیخودلے اوپه لاسونو او خپوئیے ورله میخونه ټك وهل په دغه سخت حالت کښ هغے دا دُعا اوغوښتله ﴿رَبِّ ابْنِ لِيْ عِنْدَكَ بَيْتًا﴾ دلیل دے چه په داسے حالت کښ اللّٰه تعالیٰ ته تضرّع کول ډیره فائده ورکوی ﴿وَنَجِّنِيْ مِنْ فِرْعَوْنَ﴾ دَ دهٗ دَ مجلس اودَنکاح نه ﴿وَعَمَلِهٖ﴾ مراد دَ دے نه عمل دَکفراودَ شرك دَ هغه دے یا دَهغه دَ طرف نه عقوبت اوظلم کول دی ﴿مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ﴾ مراد دَ دے نه قوم دَ فرعون دے چه هغه ټول ظالمان وؤ په سبب دَ کفر اوشرك، او ظلم کوؤنکی وؤ په مؤحدینو بنی اسرائیلو باندے۔

[۱۲] دا دویم مثال دے دَپاره دَ اهل ایمان اوپه دے کښ هم اول مقصد دا دے چه دشمنانو(یهودیانو) په مریم علیها السلام باندے طعنونه لګول لیکن هرکله چه هغه پاکدامنه وه اوپه کلماتودَ اللّٰه تعالیٰ یقین کوؤنکے وه نوطعنونودَ دشمنانوهغے ته هیڅ ضررورنکړودَ هغے په درجه عند اللّٰه کښ هیڅ نقصان رانغے دارنګ مؤمن صالح داعی الی اللّٰه باندے که دُشمنان دَ دین طعنونه اوبهتانونه لګوی خوچه دَ هغه لمن پاکه وی اوپه کتاب دَ اللّٰه تعالیٰ باندے کلك وی نوهغه ته هیڅ ضرراونقصان نشی رسولے۔ دارنګ په دے کښ تشجیع ده مؤمنانوته چه یوزنانه (بے خاونده) دَاللّٰه تعالیٰ دَ دین دَپاره په ځان باندے مصیبتونه تیروی اودین بیانوی نوتاسوباندے خودَهغے نه زیات کوشش صرف کول پکار دی ځکه چه نارینه یئی ﴿وَصَدَّقَتْ بِكَلِمٰتِ رَبِّهَا﴾ امام فراء ویلی دی چه مراد دَ دے نه احکام شرعیه دَ اللّٰه تعالیٰ دی چه په ذریعه



(بقیه تفسیر دَ سورة التحریم) دَکلماتوسره په تورات اوانجیل کښ نازل کړے شویوؤاوکلمات دَ جبریل چه په سورة مریم (١٩،٢١،٢٤) کښ ذکر دی هغه هم پکښ داخل دی اودَ دے صفت دَ وجے نه مریم ته صدِّیقه وئیلے کیږی اودا مقام دَکمال دَ ایمان دے ﴿وَكَانَ مِنَ الْقَانِتِيْنَ﴾ دا مرتبه دَکمال دَ عمل ته اشاره ده یعنی قوّةِ علمیه ایمانیه اوعملیه پکښ درے دواړه کامل وؤ۔ **سوال:** القانتین مذکرذکرشودَ دے وجه څه ده؟ **جواب:** لفظ دَ قوم پټ دے یعنی قوم قانتین یا اشاره ده چه دَ دے اطاعت اواخلاص خالص پشان دَ نارینووؤ په شجاعت اوحسن بیان کښ۔

سورة ملك

دَ دے سورة نورنومونه دا دی: سورة تبارك، المانعه، المنجیه، المجادله، الواقیه، المنّاعَه۔

ربط: دَ دے سورة دَ مخکښ سورت سره په څو وجوهو سره دے اوله وجه داچه په مخکښ سورة کښ حقوق دَ انسانانو په یوبل باندے ذکرشول نو پدے سورة کښ حقوق دَ اللّٰه تعالیٰ ذکرکوی چه توحید فی البرکات والاسماء والصفات دے او ایمان په رسول اوپه قرآن اوپه بعث بعد الموت باندے۔ دویمه وجه داچه په هغه سورة کښ عذاب دَ دوه زنانو دَا نبیاؤذکرکړو اومدح دَ امرءة فرعون او مریم علیهما السلام ذکرشوه نو پدے سورة کښ سبب دَ فرق ذکرکوی چه هغه عقیده دَ توحید ده۔

دعویٰ دَ سورة: اثبات دَتوحید فی البرکات دے په دلیلونو عقلیوانفسی او افاقی سره اوپه ذکرد اسماء اوصفات الٰهیه سره دولس دلیلونه دی اولس اسماء دی۔ اوپدے کښ رد دے په شرك فی التصرف باندے په (١،١٩،٢٠،٢١،٢٨،٣٠) کښ اوپه شرك فی العلم باندے رد په (١٣،١٤) کښ دے۔

خلاصه دَ سورة: دعویٰ دَتوحید فی البرکات سرهٔ دَ دریودلیلونوعامونه ذکرکوی په(١،٢،٣)کښ بیا نهه عقلی دلیلونه ئے ذکرکړی دی چه په هغے کښ دَبرکات خاصه ذکردے برکات دَ اسمانونواوبرکات دَزمکے اوبرکات دَمارغانواودَ انسانانو۔ تفصیل ئے دا دے چه په (٤)کښ دلیل متعلق دَ اسمانانوسره ذکرکوی او(٥)کښ دوه فائدے متعلق دَ ستورو سره په دلیل سره ذکرکوی۔بیا دَ(٦) نه تر (١١) پورے تخویف اخروی په اته قسمونودَ هیبتونوسره ذکرکوی اوپه (١٢)کښ مختصر بشارت دے په (١٣،١٤) کښ دلیل دے په عموم دَعلم دَ اللّٰه تعالیٰ سره په (١٥)کښ احوال او فائدے دَ زمکے ذکرکوی په طریقه دَ دلیل سره بیا په درے اٰیاتونوکښ تخویف دنیوی ذکردے بیا په (١٩) کښ احوال دَ طیورو اودلیل وسطی دے۔ بیا رد دے په مشرکانوباندے په (٢٠،٢١)کښ بیا په (٢٣،٢٤) کښ دلیلونه دَاحوالودَ انسان دی۔ بیا رد دے په منکرینودَ بعث بعد الموت په (٢٥،٢٦،٢٧) کښ بیا دوه دلیلونه اعترافی ذکرکوی په (٢٨،٢٩،٣٠)کښ۔

تَبٰرَكَ الَّذِيْ بِيَدِهِ الْمُلْكُ ۖ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرُ ۙ﴿١﴾ الَّذِيْ خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيٰوةَ لِيَبْلُوَكُمْ
اَيُّكُمْ اَحْسَنُ عَمَلًا ۭ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْغَفُوْرُ ۙ﴿٢﴾ الَّذِيْ خَلَقَ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ طِبَاقًا ۭ مَا تَرٰى فِيْ خَلْقِ الرَّحْمٰنِ

ټولو برکتونو والا هغه ذات دے چه په لاس کښ ئے بادشاهی ده او هغه په هر څیز باندے قدرت والا دے (۱) داسے ذات دے چه پیدا کړیدے مرګ او ژوند دَ دے دپاره چه ازمیښت اوکړی په تاسو چه کوم یو ستاسو نه خائسته عمل کوؤنکے دے او هغه زور اور بخنه کوؤنکے دے (۲) داسے ذات دے چه پیدا کړیدی اُوه اسمانونه لاندے باندے اوبه نه وینے په پیدا کولو دَ رحمن ذات کښ

تفسیر

[۱] پدیکښ دعویٰ دَ سورة ده اوپه هغے باندے دوه دلیلونه عقلی عامه دی ﴿تَبَارَكَ﴾ داکلمه په سورة اعراف، مؤمنون، غافر،فرقان کښ اوسورة رحمان اوسورة زخرف کښ تیره شویده۔ برکت په اصل کښ زیادت ته وئیلے شی که حسی وی اوکه عقلی وی اوډیروالی دَ خیراوهمیش والی ته وئیلے کیږی او صیغه دَ بابِ تفاعل دَ مبالغے دَپاره ده نو معنیٰ داچه اللّٰه تعالیٰ ډیرے لوئے والادے دَ ذات اوصفاتواو افعالو په اعتبارسره اودَ هرخیر اونفعے پیدا کوؤنکے او ورکوؤنکے دے ﴿الَّذِيْ بِيَدِهِ الْمُلْكُ﴾ ید اللّٰه تعالیٰ لره په حقیقی معنیٰ سره ثابت دے لیکن بغیرَ تمثیل اودَ تشبیه نه دَ مخلوق سره او تاویل کول ئے په قدرت او نعمت سره حرام دی او دا انکارکول دی دَ صفت دَ اللّٰه تعالیٰ نه۔ حاصل دا دے چه هرکله اختیارَ امر ونهی او تدبیر او تصرف چلول شپه اوورځ پیداکول عزت ذلت ورکول احیاء اماتت مالداری او فقر راوستل وغیره ټول په لاس دَ اللّٰه تعالیٰ کښ دی نو برکت ورکول دَ بل چانه ممکن نه دی، نودا اول دلیل شودَ دعوے دَپاره۔ دویم دلیل ﴿وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرُ﴾ شیءٍ عام دے برکت اچول خیرپیداکول مرض لرے کول دَ بندګانو کارونه کول وغیره ټولوته شامل دے شربینی په سراج المنیرکښ لیکلی دی چه دا دلیل دے چه هرتاثیرنه دے مګر په قدرت دَ اللّٰه تعالیٰ سره دے ماده او طبیعت دَ څیز مؤثرنه دی لکه چه دهریان او فلاسِفه وائي او اسباب هم پخپله مؤثرنه دی لکه چه معتزله وائي اوکارونه دَ بندګانو مخلوق او مقدور دَ اللّٰه تعالیٰ دی او دا دَ اهلِ سنت مسلك دے دَ دے نه معلومه شوه چه په برکت اچولو باندے دَ ماسیویٰ اللّٰه قدرت نیشته۔

[۲] دا دریم دلیل دَ دعوے دے په طریقه دَ عموم سره هرموجود پس دَ عدم نه ورته شامل دے (سوال) خَلقَ خو ایجاد دے او موت خوعدمی څیز دے نودَ هغے سره دَ خَلق څنګه نسبت دے؟ (جواب) په ډیرو وجوهو سره دے اوله وجه داچه موت عدمی دے په عدم والملکه سره لکه عمیٰ په مقابله دَ بصرکښ او داسے عدمی ته نسبت دَ ایجاد کیدیشی۔ دویمه وجه داده چه خَلق په معنیٰ دَ قدر دے اوتقدیردواړوته شامل دے۔ دریمه وجه داده چه مراد دَ موت نه نطفه په صلب (ملا) دَپلارکښ ده بیاپه رحم دَ مورکښ لکه سورة بقره (۲۸) کښ ئے دے ته اَمْوَاتًا، وئیلی دی۔ ځلورمه وجه داده چه موت اوحیات دواړه وجودی دی اودَ دوی په منیځ کښ تقابل اوتضاد دے اودَ دے وجے نه په ورځ دَقیامت کښ به موت په صورت دَلمورګاه سره جوړ کړیشی اوبیا به ذبح کړیشی اودا په صحیح حدیث کښ راغلی دی ﴿لِيَبْلُوَكُمْ﴾ داسے په سورة هود (۷) او سورة کهف (۷) کښ هم تیرشویدی (سوال) ابتلاء اوامتحان وی دَ دے دَپاره چه دَ افرادو فرق معلوم شی او اللّٰه تعالیٰ خوعالم

مِنْ تَفٰوُتٍ ؕ فَارْجِعِ الْبَصَرَ ۙ هَلْ تَرٰى مِنْ فُطُوْرٍ ۝٣ ثُمَّ ارْجِعِ الْبَصَرَ كَرَّتَيْنِ يَنْقَلِبْ اِلَيْكَ الْبَصَرُ خَاسِئًا وَّهُوَ حَسِيْرٌ ۝٤ وَلَقَدْ زَيَّنَّا السَّمَآءَ الدُّنْيَا بِمَصَابِيْحَ وَجَعَلْنٰهَا رُجُوْمًا لِّلشَّيٰطِيْنِ وَاَعْتَدْنَا لَهُمْ

هیڅ نقصان نو اوګرځوه سترګې ایا وینے ته څه چاودونه (٣) بیا اوګرځوه سترګے بار بار (بیابیا) واپس به را اوګرځی تاته سترګے عاجزے او هغه به سترے وی (٤) او یقیناً ډولی کړیدے مونږ اسمان نزدے لره په چراغونو سره او جوړ کړیدی مونږ هغه ویشتونکی دَ شیطانانو او تیار کړیدے مونږ دَ دوی دپاره

بکل شئ دے؟ (جواب) ابتلاء ماخوذ ده دَ بلاء نه او هغه په اصل کښ حقیقت معلومولوته وئیلے کیږی نو معنیٰ دا ده چه اوبه ښائی تاسوته حقیقت دَ عملونو ستاسو لکه چه سورة یونس (٣٠) کښ هم داسے ذکر دی ﴿اَيُّكُمْ اَحْسَنُ عَمَلًا﴾ دَ فضیل بن عیاض نه روایت دے چه اَكْثَرُ عَمَلًا ئیے نه دے وئیلے ځکه چه ډیروالے دَ عمل مقصود نه دے بلکه خائِست دَ هغے مطلوب دے او خائِست دَپاره دوه شرطونه دی یواخلاص اودویم موافقت دَ سنت سره که په دے دواړو کښ یوشرط هم نه وی نوعمل به برباد وی اګر چه ډیروی یعنی که شرك جلی یا خفی وی یا مخالفت دَ سنت نه وی په طریقه دَ بدعت سره وی او که په رواج یا فسق وفجور سره نوعمل به بربادوی ﴿الْعَزِيْزُ الْغَفُوْرُ﴾ پدے دواړه صفتونوجمع کولوکښ تخویف اوبشارت دواړه دی په ترتیب سره۔

[٣] دا دلیل عقلی خاص متعلق دے دَبرکات سماویه سره چه هغه څلورحالات دی (١) اووه دی (٢) طباق دی (٣) تفاوت پکښ نیشته (٤) فطورنه بچ دی ﴿طِبَاقًا﴾ دا صفت دے دَ سبع اومراد دادے چه دوی دَیوبل دَپاسه طبقے طبقے دی یا مراد دا چه دَ یوبل سره موافق مطابق دی په شکل اواکثرو صفاتوکښ۔ ﴿خَلْقِ الرَّحْمٰنِ﴾ مراد دَ دے نه خلق دَ اسمانونو دے یا عام دے او لفظ دَ رحمان دَ مسئلے دَ برکاتوسره مناسب دے یعنی هغه نعمتونه او برکات دَ دُنیا ورکوؤنکے دے ﴿مِنْ تَفَاوُتٍ﴾ تفاوت عیب اونقصان اواختلاف اوچودونو ته وئیلے کیږی لکه سورة قٓ (٦) کښ۔ یا مراد دَ دے نه اختلاف دے په رعایت دَحکمت او دلالت کولوکښ په خالق باندے نوبنا په دے دَ خلق الرحمٰن نه دَ ټول مخلوق پیدائش مراد دے ځکه چه وجود دَ ټول مخلوق یوشان دلالت کوی په وجود اوتوحید دَ خالق باندے ﴿مِنْ فُطُوْرٍ﴾ چودلو اوکمزورئے ته وئیلے کیږی ﴿فَارْجِعِ الْبَصَرَ﴾ مراد دَ دے نه کوشش کول دی په نظرکولوسره په اراده دَ فطور معلومولوسره۔

[٤] داتاکید دَماقبل دے ﴿كَرَّتَيْنِ﴾ دا تثنیه دَپاره دَکثرت ده یعنی که هرځومره ځله بیابیا نظراوکړے نوفطور نشے معلومولے ﴿خَاسِئًا﴾ خسأ لرے کیدلوته وئیلے شی یعنی لرے به وی دَمقصدحاصلولونه اوذلیل اوعاجزته هم وئیلے کیږی ﴿وَهُوَ حَسِيْرٌ﴾ په معنیٰ دَ فاعل یا دَ مفعول سره دے یعنی سترے یا سترے کړے شوے او حسیر پښیمانه ته هم وئیلے کیږی۔

عَذَابَ السَّعِيْرِ ۝٥ وَلِلَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ ؕ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ۝٦ اِذَآ اُلْقُوْا فِيْهَا سَمِعُوْا
لَهَا شَهِيْقًا وَّهِيَ تَفُوْرُ ۝٧ تَكَادُ تَمَيَّزُ مِنَ الْغَيْظِ ؕ كُلَّمَآ اُلْقِيَ فِيْهَا فَوْجٌ سَاَلَهُمْ خَزَنَتُهَآ اَلَمْ يَاْتِكُمْ
نَذِيْرٌ ۝٨ قَالُوْا بَلٰى قَدْ جَآءَنَا نَذِيْرٌ ۙ فَكَذَّبْنَا وَقُلْنَا مَا نَزَّلَ اللّٰهُ مِنْ شَيْءٍ ۖ اِنْ اَنْتُمْ اِلَّا فِيْ

عذاب دَ اور بل کړے شوی (٥) او هغه کسانو لره چه کفر ئے کړیدے په رب خپل باندے عذاب دَ جهنم دے او بد دے ځائے دَ ورتللو (٦) کوم وخت چه اوغورځولے شی دوی په هغے کښ نو اوری به هغے لره هینړار او هغه به خوټکیږی (٧) نزدے ده چه اوبه چوی دَ وجے دَ غصے نه هر وخت چه اوغورځولے شی په هغے کښ یوه ډله نو تپوس به کوی دَ دوی نه څوکیداران دَ هغے (دَ جهنم) ایا نه وؤ راغلی تاسوته ویره درکوؤنکی (٨) دوی به اُوائي هاں ولے نه یقیناً راغلی وؤ مونږ ته ویره راکوؤنکی نو دروغژن او ګنړل مونږ اومونږ اُوئیل نه دے نازل کړے اللّٰه تعالیٰ هیڅ څیز نه ئے تاسو مکّر په

[٥] دا بل دلیل عقلی دے مشتمل دے په نورو برکاتو سماویه باندے چه هغه تزیین (خائست) دَ اسمان دے او رجم دَ شیاطینو دے دَپاره دَحفاظت دَ اسمان اودَ حفاظت دَوحی دَ تلبیس دَکاهنانونه۔ نودا دُنیوی او دینی اوظاهری اوباطنی برکات دی ﴿السَّمَآءَ الدُّنْيَا﴾ دَ دے تفصیل دَ سورة صافات په اول کښ تیرشویدے او ظاهر نه معلومیږی چه ستوری په نورو اسمانونو کښ نیشته صِرف په اول اسمان کښ دی ﴿بِمَصَابِيْحَ﴾ واړه ستوروته وئیلے شی چه هغه ثوابت ستوری دی دَ دے وجے نه بعضِ اهل عِلمو وئیلی دی چه غټ ستوری (سیارات) دَ اسمان دَ لاندے دی په خپل فلك (مدار) کښ او ثوابت ستوری په اسمان کښ دی۔ دریم قول دا دے چه ټول دَ اسمان نه کوزدی ﴿وَجَعَلْنٰهَا رُجُوْمًا لِّلشَّيٰطِيْنِ﴾ مراد دَ دے نه هغه شیطانان دی دَجناتونه چه کاهنانوته دَملائکوخبرے راوړی اودروغ ورسره یوځائے کوی لکه چه حدیث کښ راغلی دی۔ (سوال) هرکله چه داستوری اُویشتلے شی نوزینت خوبه خراب شی؟ (جواب) دَ ستوری نه یوشغله جداکړے شی چه هغے ته شهاب وئیلے شی اوپه هغے سره ویشتل اوشی اوستوری په خپل ځائے باندے پوره پاتے وی ﴿وَاَعْتَدْنَا لَهُمْ﴾ دا عذاب اخروی دے سعیرپه معنیٰ دَ مسعورة سره دے تیز بل کړے شوے۔

[٦،٧] دَ اَعْتَدْنَا نه تر(١١) پورے دا اته هیبتونه دَ اخرت ذکرکوی ﴿وَلِلَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ﴾ مراد هغه خلق دی چه شرك کوی په برکات ورکولوکښ یعنی برکات ورکوؤنکے ما سوىٰ اللّٰه لره ګڼری۔ ﴿اِذَآ اُلْقُوْا فِيْهَا﴾ غورځول په جهنم کښ به داسے وی لکه چه لرګی (خشاك) دَ لرے نه اورته غورځیدلے شی ﴿سَمِعُوْا لَهَا شَهِيْقًا﴾ سورة هود (١٠٦) کښ تیرشویدی چه دَ جهنمیانوبه زفیراوشهیق وی اودلته مراد دا دے چه دَ جهنم به شهیق وی نودا دواړه حالتونه به وی دَجهنم به هم شور اودَ اهل جهنم به هم شوروی ﴿وَهِيَ تَفُوْرُ﴾ لکه کتوئے کښ چه څه پخیږی نوکتوئے دَ ډیرګرموالی دَ وجے نه خوټ کیږی۔

[٨] دا کنایه ده دَ ډیرے سختے غصّے نه او داټول صفات دَ جهنم په حقیقت باندے حمل دی اللّٰه تعالیٰ قادر دے چه په اور کښ دا صفتونه پیداکړی ﴿كُلَّمَآ اُلْقِيَ فِيْهَا فَوْجٌ﴾ دَ حال دَ جهنم نه روستو حال دَ اهلِ جهنم ذکرکوی او اشاره کوی چه دَ دوی هیڅ عذر نیشته او سبب دَ عذاب شته دے ځکه چه نذیر راغلے وؤ او دوی ئے تکذیب کړے وؤ ﴿فَوْجٌ﴾ اشاره ده چه اهلِ جهنم به مختلف جماعتونه وی لکه چه سورة

ضَلٰلٍ كَبِيْرٍ ۝٩ وَقَالُوْا لَوْ كُنَّا نَسْمَعُ اَوْ نَعْقِلُ مَا كُنَّا فِيْٓ اَصْحٰبِ السَّعِيْرِ ۝١٠ فَاعْتَرَفُوْا بِذَنْۢبِهِمْ ۚ فَسُحْقًا
لِّاَصْحٰبِ السَّعِيْرِ ۝١١ اِنَّ الَّذِيْنَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَيْبِ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّاَجْرٌ كَبِيْرٌ ۝١٢ وَاَسِرُّوْا قَوْلَكُمْ

ګمراهۍ لویه کښ ئیے (۹) او دوی به اُوائي که چرے مونږ اوریدلے یا مو دَ عقل نه کار اخستلے نه به وے مونږ په اور والو کښ (۱۰) نو اقرار اوکړو دوی په ګناهونو خپلو باندے نو تباهی ده اور والو لره (۱۱) یقیناً هغه کسان چه ویره کوی دَ رب خپل نه بے دَ لیدلونه دوی دپاره بخنه ده او ثواب لوئے دے (۱۲) او که په دمه وائیے تاسو وینا خپله

نباء(۱۸) کښ ئیے افواجاً وئیلے دی اوسورة نمل (۸۳) کښ هم داسے دی ﴿سَاَلَهُمْ﴾ داتپوس دَپاره دَ الزام دَحجت دے لکه سورة غافر(۵۰) کښ تیرشویدی ﴿نَذِيْرٌ﴾ رسول اونائبان دَ رسول مراد دی اشاره ده چه اللّٰه تعالیٰ یغیر دَ ارسال دَ رسول یا دَ نائب دَ هغه نه عذاب نه ورکوی۔

[۹] ﴿وَقُلْنَا مَانَزَّلَ اللّٰهُ مِنْ شَيْءٍ﴾ دا ډیره مبالغه ده په تکذیب کښ لکه چه سورة انعام (۹۱) اوسورة یٰس(۱۵) کښ تیرشویدی اودا دَ وجے دَ ضد اوعناد نه وائي ﴿اِنْ اَنْتُمْ﴾ داهم قول دَکافرانو دے دَ زیادت تکذیب په باره کښ یا دا قول دَ ملائکودے جهنم والوته۔

[۱۰] ﴿لَوْ كُنَّا نَسْمَعُ اَوْنَعْقِلُ﴾ دَ حق دَ علم حاصلولو دَپاره دوه طریقے دی یو اوریدل دَ قرآن او دَ سنت اوبل په عقل او فکر سره صحیح اجتهادکول اودا دواړه کافرانوپریخودلے وے (سوال) بعض علماؤدَ دے ایت نه تقلیداواجتهاد ثابت کړے دے یعنی دَنسمع نه تقلید مراد کوی؟ (جواب) دا باطل قول دے ځکه نسمع نه مراد ایاتونه اونصوص اوریدل دی دَ نذیرنه ځکه چه مخکښ ایت کښ دَ نذیراودَما انزل ذکرتیرشویدے۔ اونصوص اوریدل اودَ هغے تابعداری کول خواتباع ده پدے باندے دَ تقلید اطلاق کول دَ معنے دَ تقلید نه غفلت کول دی اودَ دے وجے نه شریبنی وئیلی دی نَسمَعُ كَلَامَ الرُّسُل۔ قرطبی وئیلی دی نَسْمَعُ مِنَ النُّذُرِ، یعنی الرسل۔ ابن کثیروئیلی دی نَسْمَعُ مَا اَنْزَلَ اللّٰه مِنَ الْحَقِّ۔ اوهرقول چه خلاف وی دَ تفسیر دَ سلف صالحینونه نو هغه تفسیرنه وی بلکه تحریف وی۔

[۱۱] دا حاصل دَماقبل دے اوتصریح ده چه په داسے وخت کښ اقرار کول او پښیمانی کول هیڅ فائده نه ورکوی ﴿بِذَنْۢبِهِمْ﴾ مراد دَ مفردنه جنس دے یعنی ډیرګناهونه مراد دی ﴿فَسُحْقًا﴾ سحق په اصل کښ ځولول دَ ځیز دی تردے پورے چه ختم کړیشی اواستعمالیږی په معنیٰ دَ لرے کیدلودَ رحمت دَاللّٰه تعالیٰ نه اوپه معنیٰ دَ لعنت، اوپه معنیٰ دَهلاکت سره هم استعمالیږی۔

[۱۲] دابشارت دے روستودَتخویف نه﴿يَخْشَوْنَ﴾خشیت خوف دے سرهٔ دَتعظیم دَمخشیٰ نه (هغه چه ویره ترینه کیدیشی) ﴿بِالْغَيْبِ﴾ دوی غائب دی یعنی رب ئیے نه دے لیدلے یا دَ رب عذاب دَ دوی نه غائب دے یا په داسے حال کښ دی چه دَ خلقونه غائب یعنی جدا دی ، دا ټولے معانی مراد کیدے شی۔

ع ١ اَوِ اجْهَرُوْا بِهٖ ؕ اِنَّهٗ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿١٣﴾ اَلَا يَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ ؕ وَهُوَ اللَّطِيْفُ الْخَبِيْرُ ﴿١٤﴾ هُوَ الَّذِيْ
جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ ذَلُوْلًا فَامْشُوْا فِيْ مَنَاكِبِهَا وَ كُلُوْا مِنْ رِّزْقِهٖ ؕ وَاِلَيْهِ النُّشُوْرُ ﴿١٥﴾ ءَاَمِنْتُمْ مَّنْ فِي
السَّمَآءِ اَنْ يَّخْسِفَ بِكُمُ الْاَرْضَ فَاِذَا هِيَ تَمُوْرُ ﴿١٦﴾ اَمْ اَمِنْتُمْ مَّنْ فِي السَّمَآءِ اَنْ يُّرْسِلَ عَلَيْكُمْ

یا ئیے په زوره وائیے یقیناً هغه پوهه دے په هغه خبرو باندے چه په سینو کښ دی (۱۳) ایا نه دے پوهه هغه څوك چه پیدائش ئے کړیدے او هغه رازونه پیژنی خبر دار دے (۱٤) خاص هغه داسے ذات دے چه جوړه کړیده تاسو لره زمکه تابع دپاره دَ فائدو نو ګرځئے په لارو دَ هغے کښ اوخورئے دَ روزئے دَ اللّٰه تعالیٰ نه او خاص هغه ته ورپاسیدل دی (۱۵) ایا په امن ئے (نه ویریږئ) دَ هغے ذات نه چه په اسمان کښ دے چه خخ به کړی تاسو په زمکه کښ نو بیا به هغه خوځیږی (۱٦) ایا په امن ئے (نه ویریږئ) دَ هغه ذات نه چه په اسمان کښ دے چه را اوبه لیږی په تاسو باندے

[۱۳،۱٤] دا دلیل دے په دعویٰ دَ سورة باندے په اثبات دَ علم دَ اللّٰه تعالیٰ په هرځیز باندے که پټ وی یا ښکاره په زړونو کښ وی اوکه بهروی ﴿وَاَسِرُّوْا قَوْلَكُمْ﴾ دا صیغه په معنیٰ دَخبرسره ده لکه سورة رعد (۱۰) کښ هم تیرشوی دی او قَوْلَكُم عام دے که قول دَ خیروی او که دَ شروی ـ اوکه مخاطبین مؤمنان وی اوکه کافران وی ﴿مَنْ خَلَقَ﴾ مَن مفعول دَیعلم دے ځکه علم په معنیٰ دَ معرفت سره یومفعول غواړی نومراد دَ مَن خَلَقَ نه مخلوق دے یامَنْ فاعل دے اومفعول ئے دَ تعمیم دَپاره حذف کړے دے او مراد دَ مَنْ خَلَقَ نه خالق دے او په دواړو وجوهو کښ اشاره ده چه خلق مستلزم دے علم لره۔

[۱۵] په دے ایت کښ بل دلیل دے چه دَ اسمانی برکاتونه روستو دَ زمکے برکات ذکر کوی ﴿ذَلُوْلًا﴾ هغه ځیزته وئیلے کیږی چه دَ فائدے اخستلودَپاره اسان اوتابع وی هیڅ انکار پکښ نه وی نو زمکه هم داسے ده دَ فصلونواوکروندو اوچینو، نهرونواوکویانوکنستلودَپاره صالح ده نه ډیره سخته اونه ډیره نرمه اوتینګه کړیشویده په غرونوسره ﴿فَامْشُوْا فِيْ مَنَاكِبِهَا﴾ په دے کښ اشاره ده طلب دَ اسبابواودَکسب کولواوسفر کول دَپاره دَ تجارت اودَ طلب دَ علم اودعوت ته۔ مَنَاكِب جمع دَ منکب ده طرف او اوګے دَ انسان ته وئیلے کیږی دلته مراد طرفونه اولارے اوغرونه وغیره دی ﴿وَكُلُوْا مِنْ رِّزْقِهٖ﴾ شهاب وئیلی دی چه مراد دَ دے نه کوشش او اسباب لټول دی دَپاره دَ حصول دَ رزق او رزق خوراك څښاك لباس ټولوته شامل دے لیکن لوئے مقصد خوراك دے دَ دے وجے نه دَ خوراك تخصیص ئے اوکړو ﴿وَاِلَيْهِ النُّشُوْرُ﴾ دا تذکیر دَ قیامت دے دَپاره دَ دے چه انسان په طلب دَ روزئے کښ دَ بعث بعد الموت نه غافل نشی۔

[۱٦] په دے ایت اوپه دے پسے دوه ایاتونو کښ تخویف دُنیوی دے په اول ایت کښ عذاب دَ زمکے ذکردے اوپه دویم کښ اسمانی عذاب اوپه دریم کښ دَ هغے نمونے ذکردی په تیرشوی مکذبینو کښ۔ ﴿مَنْ فِي السَّمَآءِ﴾ قرطبی وئیلی دی چه فی په معنیٰ دَ فوق یا په معنیٰ دَ علی سره دے او دا او داسے نور نصوص ډیر دلالت کوی په علو اواوچت والی دَ اللّٰه تعالیٰ باندے دَ دے نه انکار کوؤنکے ملحد یا جاهل عنادی دے نو تاویلونه کول په خالِق من فِي السَّمَآءِ یا متصرف فِي السَّمَآءِ وغیره کښ، دے ته هیڅ حاجت نیشته ﴿فَاِذَا هِيَ تَمُوْرُ﴾ مور وئیلے کیږی په اضطراب سره تلو او راتلوته اوحرکت کول۔

حَاصِبًا ؕ فَسَتَعْلَمُوْنَ كَيْفَ نَذِيْرِ ﴿١٧﴾ وَلَقَدْ كَذَّبَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيْرِ ﴿١٨﴾ اَوَلَمْ يَرَوْا
اِلَى الطَّيْرِ فَوْقَهُمْ صٰٓفّٰتٍ وَّيَقْبِضْنَ ۛ مَا يُمْسِكُهُنَّ اِلَّا الرَّحْمٰنُ ؕ اِنَّهٗ بِكُلِّ شَيْءٍۭ بَصِيْرٌ ﴿١٩﴾ اَمَّنْ هٰذَا
الَّذِيْ هُوَ جُنْدٌ لَّكُمْ يَنْصُرُكُمْ مِّنْ دُوْنِ الرَّحْمٰنِ ؕ اِنِ الْكٰفِرُوْنَ اِلَّا فِيْ غُرُوْرٍ ﴿٢٠﴾ اَمَّنْ هٰذَا الَّذِيْ

کانړی نو پوهه به شئ چه څه رنګه دی یرول زما (۱۷) او یقیناً دروغژن ګنړلے دے هغه کسانو چه دَ دوی نه مخکښ وؤ (حق لره) نو څه رنګه وؤ عذاب زما دوی لره (۱۸) ایا دوی نه ګوری مارغانوته دپاسه دَ دوی چه خوروؤنکی دی وزرے خپلے او بندوی هغه ، نه دی حصار کړی دوی مګر رحمٰن ذات، یقیناً هغه هر څیز لره لیدونکے دے (۱۹) بلکه هغه څوك دی چه لښکر (فوځ) شی ستاسو مدد اوکړی ستاسو سیوا دَ رحمٰن ذات نه ، نه دی کافران مګر په دهوکه کښ دی (۲۰) بلکه هغه څوك دی

[۱۷] دا هم تخویف دُنیوی دے ﴿حَاصِباً﴾ کانړی ویشتونکی ته وئیلے کیږی یعنی داسے سیلئی یا باران یابل څیز چه کانړی به وُلی ﴿كَيْفَ نَذِيْرِ﴾ په زیرَ راء سره دے په اصل کښ نذیری وؤ نودَ وقف دَ وجے نه(ی) اوغورځیدله دغه شان نکیرهم دے ۔ بیا نذیر مصدر دے په معنیٰ دَ انذار سره یا په خپله معنیٰ سره دے یا مضاف حذف دے یعنی عاقبت انذاری۔

[۱۸] دَ تاکید دَتخویف دُنیوی دَپاره دَ تیرشوی قومونوعذابونوته اشاره کوی اومشترك علت ذکرکوی چه هغه تکذیب دے ﴿نَكِيْرِ﴾ په انکار سره دے اوانکار نه معنیٰ نا اشنا عذاب ورکول دی۔

[۱۹] دابل دلیل عقلی وسطی دے په باره دَمارغانوکښ یعنی برکات وسطیه ذکرکوی ﴿الطَّيْرِ﴾ جنس مراد دے اوګنړوته شامل دے دَ دے وجے نه روستوضمیرونه دَ جَمعے ئیے دے ته راجع کړی دی ﴿فَوْقَهُمْ﴾ اشاره ده چه هرکله مارغان په زمکه باندے یاپه اونوباندے ناست وی نودارو ستوصفت پکښ نه معلومیږی دغه صفت په هغه وخت کښ دے چه په هواکښ اوچت وی ﴿صٰٓفّٰتٍ وَّيَقْبِضْنَ﴾ دا دوه حالتونه ذکردی یعنی کله وزرے خورَوی اوکله ئیے بنده وی ﴿مَا يُمْسِكُهُنَّ اِلَّا الرَّحْمٰنُ﴾ لفظ دَ رحمٰن دلالت کوی په عموم دَ برکاتو دنیویه باندے او پدے حصر کښ بنکاره دلیل دے چه هیڅوك نبی،ولی، ملك، جن وغیره دَ دے کار وَس او اختیارنه لری داسے ایت په سورة نحل (۷۹) کښ هم ذکرشویدے۔

[۲۰] هرکله چه مشرکان دَشرك فی البرکات عقیده دَ دوه امیدونودَوجے نه لری یوامید دَ نصرت اودَ امداد اوبل امید دَ روزئے، نورد کوی په دوی باندے چه دا دواړه دَ اللّٰه تعالیٰ نه سیوا دَبل چاپه اختیار او قدرت کښ نیشته نودَ څه وجے نه دوی شرك فی البرکات کوی نودازجردے په مشرك باندے۔ ﴿جُنْدٌ﴾ نه مراد حفاظت کوؤنکے مددکوؤنکے (سپاهی،فوجی څوکیدار) دے اودا په عقیده دَمشرکانوکښ داسے دی ﴿يَنْصُرُكُمْ مِّنْ دُوْنِ الرَّحْمٰنِ﴾ دا جمله صفت دَ جند دے یعنی چه اللّٰه تعالیٰ په تاسوباندے خپل برکات بندکړی اوپه تاسومصیبتونه راولی نو ایا دا معبودان ستاسودغه مصیبت لرے کولے شی اوځه برکت درکولے شی لکه داسے سوال اوجواب په سورة زمر(۳۸) اوسورة مؤمنون(۸۸) کښ هم ذکردے ﴿اِنِ الْكٰفِرُوْنَ اِلَّا فِيْ غُرُوْرٍ﴾ دهوکه داده چه دوی عقیده لری چه دا الهه دَ دوی دَپاره مالك دَنفع اوضرر دی اودَ هغوی بندګی سبب دَ قربتِ الٰهیه دے۔

يَرْزُقْكُمْ اِنْ اَمْسَكَ رِزْقَهٗ ۚ بَلْ لَّجُّوْا فِيْ عُتُوٍّ وَّنُفُوْرٍ ﴿٢١﴾ اَفَمَنْ يَّمْشِيْ مُكِبًّا عَلٰى وَجْهِهٖٓ اَهْدٰٓى
اَمَّنْ يَّمْشِيْ سَوِيًّا عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿٢٢﴾ قُلْ هُوَ الَّذِيْٓ اَنْشَاَكُمْ وَجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ
وَالْاَفْـِٕدَةَ ۭ قَلِيْلًا مَّا تَشْكُرُوْنَ ﴿٢٣﴾ قُلْ هُوَ الَّذِيْ ذَرَاَكُمْ فِي الْاَرْضِ وَاِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ ﴿٢٤﴾ وَيَقُوْلُوْنَ

چه روزی درکړی تاسو ته که چرے بنده کړی الله تعالیٰ روزی خپله، بلکه ورننوتلی دی دوی په سرکشئ او نفرت کولو کښ (۲۱) ایا هغه څوك چه روان وی پر مخے بنه رسیدونکے دے او که هغه څوك چه روان وی برابر په لار نیغه باندے (۲۲) ته اُوایه هغه داسے ذات دے چه پیدا کړی ئے تاسو او جوړ کړیدی تاسو لره غوږونه او سترګے او زړونه ډیر لږ شکر کوئے تاسو (۲۳) ته اُوایه هغه داسے ذات دے چه خواره کړی ئے تاسو په زمکه کښ او خاص هغه ته به جمع کړیشئی تاسو (۲٤) او دوی وائي

[۲۱] دا بل زجردے په شرك باندے ﴿اِنْ اَمْسَكَ رِزْقَهٗ﴾ امساك دَ رزق دا دے چه دَ دے اسباب بندکړی، باران نه وروی، زمکه خوره ناکه کړی، اوبه اوچے کړی، اُورختم کړی، خوله بنده کړی، مرئے بنده کړی وغیره نوځوك پیرفقیروغیره شته چه دَ روزئے دا اسباب به پیدا کړی (نیشته) اودا دلیل په سورۃ عنکبوت (۱۷) اوسورۃ نحل (۸۳) کښ هم ذکر دے ﴿بَلْ لَّجُّوْا فِيْ عُتُوٍّ وَّنُفُوْرٍ﴾ بل دَ ترقئ دَ زجردَپاره دے یعنی ثابته شوه چه دَ الله تعالیٰ نه سیوا بل هیڅوك ناصر او رازق نیشته نو پکار وؤ چه دوی دَ شرك نه توبه کړے وے لیکن دوی بنه په ضد اوعناد کښ کلك شویدی ﴿لَّجُّوْا﴾ لجاج په زورسره په یوځیز کښ ننوتل سرۂ دَ موانِعونه۔ اوپه ضداوعناد کښ اوږدوالے کول اوپه هغے باندے مضبوط کیدل ﴿عُتُوٍّ﴾ سرکشی چه دَحدنه ورتیره شی ﴿نُفُوْرٍ﴾ دَ حق نه تختیدل او نفرت کول دَ وجے دَ تکبر خپل نه اوسپك ګڼړل حق او اهل حق لره۔

[۲۲] دا هم زجر دے چه دا مشرکان بے دلیله روان دی او دارنګ دفع دَ وهم دَ جاهلانوده بعضِ دَ هغوی نه مؤحد اومشرك یوشان ګڼړی او بعضِ مشرکان هدایت والااومؤمنان ګمراهان ګڼړی نوپدے ایت کښ پدے وهم باندے رد دے ﴿يَمْشِيْ مُكِبًّا عَلٰى وَجْهِهٖٓ﴾ پدے کښ تمثیل دَ سالکینو او مسلکونو ذکر کوی۔ اول مثال دَ مشرك ګمراه مقلد دے په رڼوند تقلید سره هغه هم سرخکته کړے وی یعنی دلیل ته نه ګوری اونه په دلیل والوپسے روان وی اومسلك ئے هم دَ حق نه خلاف دے اودویم مثال دَمؤحد (چه متبع دَ دلیل وی) چه هغه په تحقیق اوپه دلیل باندے عمل کوی اومسلك ئے هم په صحیح دلیلونوسره ثابت دے نو دا دواړه یوشان نشی کیدے اودا دویم یقیناً په هدایت اواول شخص یقیناً ګمراه دے۔

[۲۳] دا دلیل عقلی دے دَ دعوے دَ سورۃ په ذکر دَ برکاتِ انفسیه (انسانیه) ﴿اَنْشَاَكُمْ﴾ پدے لفظ کښ اشاره ده پیدائش دَ انسان ته په اطوار مختلفه (نطفه، علقه،مضغه، عظام، نفخ دَ روح) ځکه چه معنیٰ دَ انشاء ترقی ورکول په دمه دمه سره دی ﴿وَجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ﴾ دا درے نعمتونه ئے خاص ذکرکړل ځکه چه دا دَ علم او دَ پوهے دَ حاصلولو اسباب دی بیا علم دَ محسوساتو مقدم دے په معقولاتوباندے دَدے وجے سمع او بصر ئے دَ افئِده نه مخکښ ذکرکړل ﴿قَلِيْلًا مَّا تَشْكُرُوْنَ﴾ دا زجردے په شرك کولوځکه لویه ناشکری هغه استعمال دَ بدن او دَ دے حواسو دے په تعظیم دَ غیرالله کښ۔

[۲٤] دا بل دلیل انفسی دے دَ یو شخص ډیر نسل خورَول دا هم برکات دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه دی په

مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿٢٥﴾ قُلْ اِنَّمَا الْعِلْمُ عِنْدَ اللّٰهِ ۖ وَاِنَّمَآ اَنَا نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿٢٦﴾
فَلَمَّا رَاَوْهُ زُلْفَةً سِيْٓـَٔتْ وُجُوْهُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَقِيْلَ هٰذَا الَّذِيْ كُنْتُمْ بِهٖ تَدَّعُوْنَ ﴿٢٧﴾ قُلْ
اَرَءَيْتُمْ اِنْ اَهْلَكَنِيَ اللّٰهُ وَمَنْ مَّعِيَ اَوْ رَحِمَنَا ۙ فَمَنْ يُّجِيْرُ الْكٰفِرِيْنَ مِنْ عَذَابٍ اَلِيْمٍ ﴿٢٨﴾ قُلْ هُوَ
الرَّحْمٰنُ اٰمَنَّا بِهٖ وَعَلَيْهِ تَوَكَّلْنَا ۚ فَسَتَعْلَمُوْنَ مَنْ هُوَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿٢٩﴾ قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ اَصْبَحَ

کله به وی دا وعده که چرے تاسو رشتینی ئیے (۲۵) ته اُوایه یقیناً علم دَ دے خاص دَ اللّٰه تعالیٰ سره دے او یقیناً ځه ویره درکوؤنکے یم ښکاره (۲۶) نو هر کله چه دوی او وینی هغه نزدے تور به شی مخونه دَ هغه کسانو چه کافران دی او اوبه وئیلے شی دا هغه څیز دے چه تاسو دا غوښتلو (۲۷) ته اُوایه فکر اوکړئے که چرے هلاك کړی ما لره اللّٰه تعالیٰ او هغه څوك چه ما سره دی (ملګری) یا رحم اوکړی په مونږ باندے نو څوك به پناهی ورکړی کافرانو ته دَ عذاب درد ناك نه (۲۸) ته اُوایه هغه رحمٰن ذات دے چه ایمان راوړے دے مونږ په هغه باندے او خاص په هغه باندے ځان سپارلے دے مونږ نو زړده چه پوهه به شئے تاسو چه څوك دے هغه چه په ګمراهئ ښکاره کښ دے (۲۹) ته اُوایه فکر اوکړئے که چرے صباله

مخکښ دلیل کښ ئیے ایجاد دَ انسان ذکرکړو او په دے کښ دَ ابقاء ذکرکوی سرهٔ دَ ذکر دَ فنا او دَ حشرنه۔

[۲۵] دا زجر دے په انکار دَحشر باندے متعلق دے دَ اِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ سره۔

[۲۶] دا جواب دَ هغه سوال دے په تفویض دَ علم دَ اللّٰه تعالیٰ سره لکه چه په سورة اعراف (۱۸۷) کښ تیرشوے ﴿نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ﴾ یعنی زما کار یقینی خبرورکول اودَ هغے اثبات کول دی په حجت سره، علم دَ وخت دَ انذار سره لازم نه دے۔

[۲۷] دا هم جواب دے په طریقه دَتخویف سره ﴿فَلَمَّا رَاَوْهُ﴾ مراد دَ دے نه زمانه مستقبل ده او صیغه دَ ماضی ئیے دَ یقین دَپاره راوړے ده ﴿تَدَّعُوْنَ﴾ باب افتعال دے دَ دُعا نه په معنیٰ دَ ډیر طلب کولو یا تمناکانے کول یا په تلوارے سره غوښتل ادّعاء په طلب او دعوٰی کاذبه کښ استعمالیږی یعنی نه منی او غواړی۔

[۲۸،۲۹] پدیکښ بل دلیل عقلی دے اعترافی سکوتی سرهٔ دَ ذکر دَطریقے دَ تعلیم نه په جواب دَ قول دَ دے منکرینو کښ چه دوی اوئیل چه دا نبی او مؤمنان به مړه شی مونږ به ترینه خلاص شولکه په سورة طور(۳۰)کښ دی اوکله به ئیے وئیل چه دا نبی او دَ دهٔ ملګری زمونږ دَ معبودانو مخالفت کوی په دوی باندے به عذاب راځی جواب اوشوحاصل دا دے چه زمونږ غم مه کوئے څپل غم اوکړئے چه په تاسو باندے عذاب راشی تاسوبه څوك بچ کوی، مونږ خو رحمٰن ذات صرف یو اللّٰه تعالیٰ منوهغه به مونږ بچ کوی ﴿اِنْ اَهْلَكَنِيَ اللّٰهُ﴾ اهلاك په معنیٰ دَ مرګ عاجلاً او رحم په معنیٰ دَ مهلت او دَ روستو والی دَ مرګ دے یا اهلاك په معنیٰ دَ عذاب دے او رحم په معنیٰ دَ نصرت او دَ غلبے دَ اسلام دے ﴿فَمَنْ يُّجِيْرُ الْكٰفِرِيْنَ﴾ دَ دے شرط په اصل کښ پټ دے یعنی هرکله چه اللّٰه تعالیٰ په تاسو باندے ستاسو دَ ښکاره کفر دَ وجے نه عذاب دَ دُنیا یا دَ اخرت راولی نو تاسو به اے کافرانو څوك بچ کوی ﴿قُلْ هُوَ الرَّحْمٰنُ﴾ دا دلیل دَ جزا مقدر دے چه مخکښ مونږ ذکرکړه حاصل دا دے چه مونږ خودَ اللّٰه تعالیٰ په رحمانیت (چه صرف هغه

مَآؤُكُمْ غَوْرًا فَمَنْ يَّاْتِيْكُمْ بِمَآءٍ مَّعِيْنٍ ﴿٣٠﴾

اوبه ستاسو اوچے شی نو ځوك به راوړی تاسو له اوبه چینه دارے (۳۰)

برکات ورکوؤنکے دے شریك ئیے نیشته) باندے ایمان لرو او که چرے تکلیف راځی نو په هغه باندے توکل کوؤ نو زمونږ امید دے چه اللّٰه تعالیٰ به مونږ له عذاب نه راکوی او مونږ به دَ تکلیفونو نه بچ کوی ﴿وَعَلَيْهِ تَوَكَّلْنَا﴾ په دے کښ رد دَ شرك فی التصرف اوفی العلم ته اشاره ده ځکه چه دَتوکل شرعی مطلب دا دے چه هرنفع او ضرر دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه ګڼړی او هغه خاوند دَ علم او دَ حکمت ګڼړی بغیرد شرکت نه۔

[۳۰] دا هم دلیل اعترافی سکوتی دے اوذکرکوی تخویف په ذکر دَ یومثال دَ عذاب سره چه هغه اوبه اوچیدل دی ﴿غَوْرًا﴾ چه په زمکه کښ داسے ډوبے او اوچے شی چه په زمکه کنستلو سره بیا نه را اوځی او مراد دے نه اوبه دَ چینو او دَ کویانواودَ نهرونو دی﴿مَعِيْنٍ﴾صیغه دَ مفعول ده دَ عین نه یعنی بهکاره چه سترګے ئیے وینی یا صیغه دَ فعیل ده دَ معن نه یعنی ډیرے اوبه جاری چینه دارے اوخوګواوبوته هم وئیلے کیږی۔اودَ دے سوال جواب دَمشرکانودَ طرف نه هم دا دے چه اللّٰه تعالیٰ دا اوبه راویستلے شی اواوبو کښ ډیر برکاتِ الٰهیه دی نو لازماً ترینه معلومه شوه چه برکات ورکوؤنکے یو اللّٰه تعالیٰ دے۔

سُوْرَةُ الْقَلَمِ (٦٨) مَكِّيَّةٌ (٢) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ٥٢ رُكُوْعَاتُهَا ٢

نٓ وَالْقَلَمِ وَمَا يَسْطُرُوْنَ ۙ﴿١﴾ مَآ اَنْتَ بِنِعْمَةِ رَبِّكَ بِمَجْنُوْنٍ ۚ﴿٢﴾ وَاِنَّ لَكَ لَاَجْرًا غَيْرَ مَمْنُوْنٍ ۚ﴿٣﴾ وَاِنَّكَ

نٓ قسم دے په قلم او په هغه څه باندے چه لیکی ئے دوی (۱) نه ئے ته په نعمت د رب ستا لیونے (۲) او یقیناً تا لره خامخا ثواب دے بے انتها (۳) او یقیناً ته

سورة القلم

د دے بل نوم سورة نون دے۔

ربط: د دے سورة د سورة ملك سره په ډیرو وجوهو دے، اوله وجه دا ده چه په هغه سورة کښ اثبات د توحید وؤ نو پدے سورة کښ اثبات د رسالت دے ـدویمه وجه داده چه په مخکښ سورة کښ اثبات د توحید وؤ په دلیلونو سره نو پدے سورة کښ تشجیع اوترغیب دے په دعوت ورکولو باندے توحید طرف ته۔

دعویٰ د سورة: تیزی ورکول په دعوت باندے او ویره ورکول د مداهنت نه او دعویٰ د توحید ذکرده په (۲۹) کښ او رد د شرك فی العلم په (۷) کښ او په دیکښ دوه اسماء حسنیٰ ذکرشویدی۔

خلاصه د سورة: پدے سورة کښ دوه بابونه دی اول باب تر(۳٤) پورے دے پدیکښ ذکرد شهادت دے په صدق د رسول باندے اوصدق اوتسلّیٔ ورکولودّپاره ئے پنځه جملے(تعبیرات) ذکرکړی دی تر(۷) پورے بیا ئے تحذیر ورکړیدے د مداهنت نه او د مخالفت کوؤنکی لس صفاتِ قبیحه ئے ذکرکړیدی تر(۱۵) پورے بیا ئے واقعه د باغ والوذکرکړیده په طریقه د تخویف دنیوی سره په نزول د عذاب سره په سبب د شرك فی البرکات اود هغوی توبه ئے ذکرکړیده تر(۳۳) پورے۔ دویم باب تر آخره پورے دے په هغے کښ بشارت مختصرذکردے په (۳٤)کښ بیا زجردے منکرینوته چه د دوی سره هیڅ دلیل نیشته (دلیل عقلی، نقلی دکتاب نه وعده د اللّٰه تعالیٰ په جواز د شرك باندے۔ تقلید د مشرانواود هغوی نه دلیل راوړل) تر(٤۱) پورے بیا تخویف اخروی دے په (٤۳،٤۲) کښ بیا تسلی ده رسول ﷺ ته اوتشجیع د هغه په تخویف د منکرینوچه د هغوی هیڅ عذر نیشته په انکارکولوکښ اوتلقین د صبر اوتضرع کول اللّٰه تعالیٰ ته دّپاره د حصول د اجتباء په ذکرد یونس علیه السلام تر(۵۰) پورے او په اخر کښ زجر منکرینوته سرهٔ د صدق د رسول ﷺ نه۔

تفسیر

[۱]﴿نٓ﴾دمقطعاتونه دے مقصد پدیکښ تحدی ده دپاره دښکاره کولود اعجازدقرآن کریم۔یا دا نوم د دے سورةدے﴿وَالْقَلَمِ﴾ حاصل د قسم په قلم باندے دادے چه دا هرقسم علوی اوسفلی کاتبان اهل حق یا اهل باطل چه په انصاف اوعدل سره د نبی ﷺ په باره کښ لیکل کوی نوضروربه اولیکی چه دا نبی صادق اوپوره عقل والادے یعنی دا ټول دلیلونه د صدق د هغه دی۔

[۲] دا اول جواب قسم دے اوپه دیکښ رد دے د قول د کافرانو چه دے مجنون دے اوپه دهٔ باندے جنات دی اوتسلی ده رسول اللّٰه ﷺته﴿بِنِعْمَةِ رَبِّكَ﴾دا متعلق دے په مجنون پورے اومراد د نعمت نه وحی او قرآن

لَعَلٰى خُلُقٍ عَظِيْمٍ ۝٤ فَسَتُبْصِرُ وَيُبْصِرُوْنَ ۝٥ بِاَيِّيْكُمُ الْمَفْتُوْنُ ۝٦ اِنَّ رَبَّكَ هُوَ اَعْلَمُ بِمَنْ ضَلَّ
عَنْ سَبِيْلِهٖ وَهُوَ اَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِيْنَ ۝٧ فَلَا تُطِعِ الْمُكَذِّبِيْنَ ۝٨ وَدُّوْا لَوْ تُدْهِنُ فَيُدْهِنُوْنَ ۝٩ وَلَا

ضرور په خوئې لوئے باندے ئے (٤) نو زر دے چه ته به او وینے او دوی به او وینی (٥) چه په کوم یو ستاسو باندے لیونتوب دے (٦) یقیناً ستا رب هغه ښه پوهه دے په هغه چا باندے چه اوړی دَ لارے دَ الله تعالیٰ نه او هغه ښه پوهه دے په هدایت والو باندے (٧) نو مه منه خبره دَ دروغژن ګنړونکو (حق لره) (٨) دوی غواړی که ته نرم شے نو دوی به هم نرم شی (٩) او مه

دے یعنی په بیانولو دَ قرآن سره پدے رسول باندے جنون نه دے راغلے او قرآن دَ جنون دَپاره سبب نشی کیدلے۔

[٣] دا دویمه تسلی ده حاصل داچه دَ قرآن په وجه جنون نه راځی لیکن مصیبتونه په دعوت الی القرآن کښ ډیردی خوتسلی ساته چه دا ستا دَپاره سبب دَ بے انتها اجر دے (سوال) دا سے په سورة انشقاق (٢٥) او سورة تین (٦) کښ دَ دے امت دَپاره هم راغلی دی نوحصرئے په نبی کښ نیشته نوځه وجه ده چه لك ئے دلته مقدم ذکر کړو؟ (جواب) دا دے چه دلته مراد اجردَ دعوت اوتبلیغ دے او هغهٔ دواړه سورتونو کښ مراد دَ اجرنه جنت دے۔

[٤] دا دریمه تسلی ده او دا رد په هغه کافرانو دے چه وئیل ئے چه دا نبی مفسد اوشری دے او کنځل کوی الهوته او مشرانوته؟ حاصل جواب دا دے چه دَ دهٔ ډیرلوئے اخلاق حسنه دی دا نسبتونه کول دهٔ ته غلط دی ﴿خُلُقٍ عَظِيْمٍ﴾ خوئی او ادب، طریقه دَ ژوند اودین ته هم خلق وئیلے کیږی او حدیث صحیح دَ مسلم کښ دی چه عائشة رضی الله عنها فرمائیلی دی چه خُلق (اخلاق) دَ رسول الله ﷺ قرآن وو۔

[٦،٥] دا بله تسلی ده رسول الله ﷺ ته ﴿فَسَتُبْصِرُ﴾ سین دپاره دَ قربت دے یعنی په دنیا کښ یا په اخرت کښ ځکه چه هغه قریب دے لکه سورة قمر(٢٦) کښ اودائے په فاسره ذکر کړو ځکه چه تیرشوی تسلیٔ په صفاتودَ نبی سره وے او دا خو دَ مستقبل په باره کښ تفریع ده پدغه صفتونو باندے ﴿بِاَيِّيْكُمُ الْمَفْتُوْنُ﴾ پدیکښ ډیر وجوه دی اوله وجه داچه المفتون په معنیٰ دَ مجنون دے نو با زیاته ده دَپاره دَ تاکید۔ دویمه وجه داچه دا مصدر میمی په معنیٰ دَ فتنه دے اوبا په خپل ځائے ده او فتنه نه مراد جنون یا ګمراهی ده۔

[٧] دا هم تسلی ده او دا علت دے، متعلق دے دَ فَسَتُبْصِرُ سره یا دَ بَاَيِّيْكُمُ الْمَفْتُوْنُ سره دَ دے وجے نه حرف عطف ئے نه دے ذکر کړے ۔ اخبار په علم دَ الله تعالیٰ سره اشاره ده جزا ورکولوته۔

[٩،٨] دا تفریع ده په ماقبل په تشجیع ورکولو سره په دعوت باندے او تحذیر دے دَ مداهنت نه۔ ﴿فَلَا تُطِعِ﴾ محل دَ اطاعت ئے حذف کړیدے لیکن وصف دَ مکذبینو دلالت کوی دَ هغے په تعیین باندے یعنی کوم کارونه او خبرے او صفتونه چه دَ قبیلے دَ تکذیب او دَ انکار دی نوپه هغے کښ دَدوی اطاعت اونکړئے ﴿وَدُّوْا لَوْ تُدْهِنُ﴾ داعلت دے دَلا تطع دَپاره دَ دے وجے حرف عطف ئے نه دے ذکر کړے وداد په مینه اوتمنّیٰ کولو کښ وسعت کولوته وئیلے کیږی ﴿تُدْهِنُ﴾ مبرد وئیلی دی چه ادهان او مداهنت خیانت کول اوظاهرول دَ هغه خبرے دی چه دَ باطن نه مخالف وی۔ او بعضو علماؤ وئیلی دی چه نرم والے په

تُطِعْ كُلَّ حَلَّافٍ مَّهِيْنٍ ۝١٠ هَمَّازٍ مَّشَّآءٍۭ بِنَمِيْمٍ ۝١١ مَّنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ مُعْتَدٍ اَثِيْمٍ ۝١٢ عُتُلٍّۭ بَعْدَ ذٰلِكَ
زَنِيْمٍ ۝١٣ اَنْ كَانَ ذَا مَالٍ وَّبَنِيْنَ ۝١٤ اِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِ اٰيٰتُنَا قَالَ اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ۝١٥ سَنَسِمُهٗ عَلَى

منه خبره دَ هر ډير قسمونه کوؤنکی سپك (١٠) طعن کوؤنکے ډير کړئيدونکے په چغلئے سره (١١) ډير منع کوؤنکے دَ خير دَ حد نه تيريدونکے ډير ګنهګار (١٢) بد ژبے روستو سره دَ دے نه بدنام هم دے (١٣) دَ دے وجے نه چه دے خاوند دَ مال او ځامنو والا دے (١٤) کله چه اولوستلے شی په دهٔ باندے ايتونه زمونږ دے وائي دا خو دروغ قصّے دی دَ زړو خلقو (١٥) زړه داغ به اولګوؤ دَ دهٔ په

کلام اوپه طريقه کښ، که دَ خيروی او که دَ شروی ، خو استعمال ئے اکثر په شرکښ کيږی۔ قرطبی دَ دے جملے په تفسيرکښ دولس اقوال ليکلی دی ليکن دَ هغے حاصل يو دے هغه داچه "په مسئله دَ توحيد کښ نرمی داسے اوکړے شی چه په شرك باندے رد نه کوی او کتمان دَحق کوی نو کافران اومشرکان به هم مخالفت نه کوی مقابلے به نه کوی کنځل بد رد به ورته نه وائي او ديته پدے زمانه کښ ډير خلق اتحاد يا حکمت وائي اودا غلطه خبره ده۔

[١٠،١١،١٢،١٣] پديکښ هم تحذير دے دَ اطاعت دَ مخالفينونه اوپديکښ دَ هغے مخالفينو لس قبيح صفات ذکرکوی اول ﴿حَلَّافٍ﴾ بے ضرورته اوپه دروغه باندے قسم کوؤنکے۔ دويم ﴿مَهِيْنٍ﴾ يعنی سپك ذليل کارونه کوؤنکے اوبے عزته په نيزدَ اللّٰه تعالیٰ۔ دريم ﴿هَمَّازٍ﴾ عيب ويونکے دَ مؤحدينومخامخ اوپشی شا۔ نودلته کښ عام دے غيبت کوؤنکے بدنامے لګوؤنکے طعنونه کوؤنکے دے ټولوته شامل دے ﴿مَشَّآءٍ بِنَمِيْمٍ﴾ دا ځلورم صفت دے يعنی داسے شخص چه دَ يوخبره بل ته رسوی دَپاره دَ دے چه دَ دواړو په مينځ کښ فساد اوورانے راولی۔ پنځم صفت ﴿مَنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ﴾ خيرعام دے دَ دنيا اودَ اخرت خيرته اودارنګ مفعول دَمناع ئے حذف کړے دے دَتعميم دَپاره يعنی هرخيردنيوی اودينی اواخروی دَ هرچانه منع کوی نودَ ايمان اوقرآن نه ځان اواولاد اونورخلق منع کول په ديکښ داخل دی۔ شپږم صفت ﴿مُعْتَدٍ﴾ دَشرع دَ حدود نه تجاوز کوی په عقيده او اعمالو کښ اوظلم کوؤنکے وی په خلقو باندے۔ اُوم صفت ﴿اَثِيْمٍ﴾ يعنی دَهر سبب دَ اسبابو دَ ګناهونوارتکاب کوی اوپه ګناهونودَ فسق وفجورکښ منهمك وی۔ منع دَ خيرګمراه کول دَ نوروخلقودی اواعتداء بدعات کول اواثم فسق وفجورکول دی۔ اتم صفت ﴿عُتُلٍّ﴾ سخت جګړمار،بدزبانه، ډيرخوراك ځښاك کوؤنکے، چاته خيتے دا ټولے معانے ابن کثيرقرطبی ذکرکړی دی ﴿بَعْدَ ذٰلِكَ زَنِيْمٍ﴾ دا نهم صفت دے۔ زَنِيْمٍ دَ زنمة نه ماخوذ دے دَکومے بيزے په غوږ پورے چه ځه غوښه زورنده وی نو هغه په ټولوبيزو کښ مشهوره وی او وران کارے وی او دَ هغه غوښے ځه فائده هم نيشته نو دارنګ زنيم مشهوردے په شرسره، رذيل کارونه کوؤنکے، او بے نسبه چه پلارئيے معلوم نه وی اوهغه ځوك چه دَ مفعوليت په مرض کښ مبتلاوی دا ټولے معنے قرطبی اوشربينی وغيره مفسرينو ليکلی دی۔

[١٤،١٥] ﴿اَنْ كَانَ ذَامَالٍ وَّبَنِيْنَ﴾ يعنی جاهل خلق دَ داسے موصوف اودَ داسے صفات قبيحه سړی طاعت اوتابعداری دَهغه دَ مالدارئے دَ وجے نه کوی ليکن ته دَ هغه دَ طاعت نه ځان بچ کړه ﴿قَالَ اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ﴾ مشرکانوقرآن ته دا نسبت کوؤ دَ دے وجے نه چه په قرآن کښ هم قصّے دی او هغه

الْخُرْطُوْمِ ﴿١٦﴾ اِنَّا بَلَوْنٰهُمْ كَمَا بَلَوْنَآ اَصْحٰبَ الْجَنَّةِ ۚ اِذْ اَقْسَمُوْا لَيَصْرِمُنَّهَا مُصْبِحِيْنَ ﴿١٧﴾ وَلَا يَسْتَثْنُوْنَ ﴿١٨﴾

خرتم باندے مونږه (١٦) یقیناً مونږ ازمیښت کړیدے په دوی باندے لکه چه ازمیښت کړے وؤ مونږ په باغ والو باندے کله چه هغوی قسم اوکړو چه ضرور پریکوی (لوکوی) به هغه دَ صبا وخت کښ (١٧) او جدائي ئیے نه کوله (١٨)

خورشتینی دی لیکن دوی ورته دروغژنے وائي یا په دے وجه چه قصّے صرف دَشغل اودَ وخت تیرولودَپاره وی نودوی هم قرآن هسے دَکپ شپ اودَ مشغلے کتاب ګنړلویا په دے وجه چه دوی وئیل چه قرآن خو صرف دَتیرشوی خلقوقصّے اوحالات ذکرکوی اودَ هغوی عذابونه اوناکاره اوصاف ذکرکوی زمونږپه باره کښ پدے کښ هیڅ نیشته لکه اوس چه بعضِ جاهلان قران والو باندے اعتراض کوی چه داقرآن خودَ زړومشرکانو اویهودیانو اونصاریٰ اوبُت پرستوپه باره کښ دے نوتاسوئیے په مونږ باندے ولے چسپان کوئے۔

[١٦] دا زجراوتخویف دے اوپدیکښ ډیراقوال دی دَ مفسرینواول داچه دا په حقیقت باندے حمل دے او په دنیا کښ به وی اوهم داسے اوشوه چه پوزه دَ هغه (ولیدبن مغیره) زخمی شوه په ورځ دَ بدرکښ او عار او شرم وربانده همیشه دَپاره پاتے شو دویم دا حقیقت دے اوپه اخرت کښ به نښه وی لکه چه مخونه به ئیے توروی اوسترګے به ئیے شنے یا خړے وی نو دارنګ په پوزه به ئیے داغ وی او دا علامات دی دَ مجرمانوپه ورځ دَ قیامت کښ۔

[١٨،١٧] دامثال دَتخویف دنیوی دَمنکرینواوشرك کوؤنکودپاره دے په برکات ورکولوکښ حاصل داچه لکه دغه کسانوته اللّٰه تعالیٰ یونعمت ورکړیوؤ (باغ) لیکن هغوی ناشکری اوکړه نوهغه نعمت ترینه واخستلے شو اوعذاب وربانده راغے نودارنګ دے خلقوته اللّٰه تعالیٰ دَ قرآن اودَبعثت رسول لوئے نعمت ورکړے دے اودوی ئیے ناشکری کوی نواللّٰه تعالیٰ به دوی باندے عذاب په دنیاکښ راولی کله اوخه رنګ چه دَ هغه مشیت اواراده وی ﴿اِنَّا بَلَوْنٰهُمْ﴾ مراد دَبلاء نه امتحان اوازمیښت دے چه نعمت دَ قرآن اوبعثت دَ رسول دے اودَ دُنیا نورنعمتونه امن، خوراکونه وغیره دی یا مراد دَبلاء نه عذاب دے۔ ﴿اَصْحٰبَ الْجَنَّةِ﴾ مشهوره دا ده چه دوی په یمن کښ صنعاء ښارته دوه فرسخه کښ نزدے وؤاودَ عیسیٰ علیه السلام دَ رفعے نه روستووؤدَ دوی عذاب اجمالی ذکرشوپه بلونا سره کله چه په معنیٰ دَعذاب سره وی اوعلت دَ عذاب ئیے په ورپسے ایت (١٨) اودَ (٢١) نه تر(٢٥) پورے ذکرکوی ﴿وَلَا يَسْتَثْنُوْنَ﴾ مشهورقول دا دے چه انشاء اللّٰه ئیے نه وئیلو، دویم قول دا دے چه دَ مسکینانوحصّه ئیے نه جداکوله دریم قول دَ ابوصالح نه نقل دے چه سبحان اللّٰه ئیے نه وئیلواودلیل دَ روستوقول په (٢٨) کښ دے (سوال) په انشاء اللّٰه نه وئیلوسره دَ داسے غټ عذاب څه رنګ مستحق شول داځه دومره غټه ګناه خونه ده؟ (جواب) بِنا په قول مشهوردا دے چه انشاء اللّٰه قصداً نه وئیل خودَ اللّٰه تعالیٰ دَصفت دَ مشیت اواراد ے نه انکارکول دی اودا عقیده دوی لرله چه دَ بندګانو کارونه دَ اللّٰه تعالیٰ په اراده اومشیت سره نه دی لکه چه په دے امت کښ دَ قدریه ډلے دا عقیده ده اودا انکار خوکفردے۔ دویم جواب بِنا په دویم قول سره دا دے چه حِصّه دَمسکینانو په اصل کښ هغه مال دے چه په نوم دَ اللّٰه تعالیٰ ورکیدے شی اوبله حصّه دَ غیراللّٰه په

فَطَافَ عَلَيْهَا طَآئِفٌ مِّنْ رَّبِّكَ وَهُمْ نَآئِمُوْنَ ﴿١٩﴾ فَاَصْبَحَتْ كَالصَّرِيْمِ ﴿٢٠﴾ فَتَنَادَوْا مُصْبِحِيْنَ ﴿٢١﴾
اَنِ اغْدُوْا عَلٰى حَرْثِكُمْ اِنْ كُنْتُمْ صٰرِمِيْنَ ﴿٢٢﴾ فَانْطَلَقُوْا وَهُمْ يَتَخَافَتُوْنَ ﴿٢٣﴾ اَنْ لَّا يَدْخُلَنَّهَا
الْيَوْمَ عَلَيْكُمْ مِّسْكِيْنٌ ﴿٢٤﴾ وَّغَدَوْا عَلٰى حَرْدٍ قٰدِرِيْنَ ﴿٢٥﴾ فَلَمَّا رَاَوْهَا قَالُوْٓا اِنَّا لَضَآلُّوْنَ ﴿٢٦﴾ بَلْ
نَحْنُ مَحْرُوْمُوْنَ ﴿٢٧﴾ قَالَ اَوْسَطُهُمْ اَلَمْ اَقُلْ لَّكُمْ لَوْ لَا تُسَبِّحُوْنَ ﴿٢٨﴾ قَالُوْا سُبْحٰنَ رَبِّنَآ اِنَّا كُنَّا

نو راغے دَ شپے په هغے باندے دَ شپے راتلونکے عذاب دَ طرف دَ رب ستانه او دوی اوده وؤ(۱۹) نو شو هغه پشان دَ پرے کړے شوی (۲۰) نو اوازونه ئے اوکړل یو بل ته دَ صبا په وخت کښ (۲۱) چه صبا وختی لاړ شئ پتی خپل ته که چرے تاسو پرے کوؤنکی یئ (۲۲) نو روان شول او دوی پتے (غلے غلے) خبرے کولے (۲۳) (هسے نه) چه نشی داخل دے باغ ته نن ورځ په تاسو باندے خوك مسکین (۲٤) او صبا وختی لاړل دوی په غصے سره ځان ئے قادر ګنړلو (۲٥) نو هر کله چه دوی اولیدو هغه باغ اُوئیل دوی یقیناً مونږ هیروؤنکی دَلارے یو (۲٦) بلکه مونږه بے نصیبه یو (۲۷) اُوئیل هوښیار دَ دوی ایا ما نه وؤ وئیلی تاسو ته چه ولے پاك نه ګنړئ اللّٰه تعالیٰ (دَ شریك نه) (۲۸) دوی اُوئیل پاکی ده رب زمونږ لره یقیناً مونږ یو

نوم سره وی (چه مشرکان ئے ورکوی اوهغه دَ دوی په نیز منجور دَ بابا یا نوسی دَ هغه بابا ته ورکیدے شی نورو مسکینانوته نشی ورکیدے) نودے خلقو دا دویمه حصّه ورکوله اودا خوصفاشرك دے۔

[۲۰،۱۹] دا تفصیل دَعذاب دے چه هغے ته اشاره ده په بلوناکښ په یومعنیٰ سره ﴿طَآئِفٌ﴾ فراء او ابن جریر وئیلی دی چه دا مختص دے په هغه مصیبت اوعذاب پورے چه صرف دَ شپے راځی ﴿نَآئِمُوْنَ، فَاَصْبَحَتْ﴾ دا دواړه دلیلونه دی پدے چه عذاب دَشپے راغلے وؤ﴿كَالصَّرِيْمِ﴾ پدے کښ درے قولونه مشهور دی اول هغه اونه چه میوے ترینه پریکړے شی یا فصل لوکړے شوے دویم شپه توره دریم ایرے تورے یعنی هغه باغ او سوځیدو نوتك تور ښکاره کیدو په شان دَ ایرو۔

[۲۲،۲۱] دا تفصیل دَ سبب دَ عذاب دے یعنی داسے طریقه اختیارول چه مسکینان خبرنشی نو اوله خبره یوبل راجمع کول دی په اوازکولو (تنادی) سره یوبل ته اوصبا وختی ئے دَ دے وجے نه مقررکړو چه مسکینان به اوده وی یا په عبادت دَ اللّٰه تعالیٰ کښ به مشغول وی۔

[۲٤،۲۳] ﴿يَتَخَافَتُوْنَ﴾ دا دَ خفت نه ماخوذ دے په پټولوکښ مبالغه کولوته وئیلے کیږی او دا طریقه داسے وه لکه چه دَ غلادپاره ځی﴿اَنْ لَّا يَدْخُلَنَّهَا﴾ دا تفسیردے دَ تخافت کولو یعنی دوی داخبره پټه کوله یا لام اجلیه مقدر دے علت دَتخافت کولودے اودا مبالغه ده په منع دَ مسکین کښ یعنی مراد دا دے چه مسکین له دَ داخلیدلوقدرت ورنکړے اګرچه هغه به داخلیدل غواړی۔

[۲٥] ﴿عَلٰى حَرْدٍ﴾دا لفظ قصدکول، حاجت، منع کول، غصّه کول، یوځائے والے دَ دے ټولو معانیو احتمال لری﴿قٰدِرِيْنَ﴾ یعنی دوی ځان قادرګنړلوپه خپل باغ پریکولو، دَهیڅ مانع نه ئے ویره نه کوله یا ځان ئے قادر ګنړلو په منع کولو دَ مسکینانو دَ وجے دَ تکبرکولونه۔

[۲۷،۲٦] ﴿قَالُوْٓا اِنَّا لَضَآلُّوْنَ﴾ دا دَ ډیرے حیرانتیا دَ وجے نه دوی بعیدګنړله چه زمونږ باغ دے پداسے

ظٰلِمِيْنَ ﴿٢٩﴾ فَاَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ يَّتَلَاوَمُوْنَ ﴿٣٠﴾ قَالُوْا يٰوَيْلَنَآ اِنَّا كُنَّا طٰغِيْنَ ﴿٣١﴾ عَسٰى رَبُّنَآ اَنْ
يُّبْدِلَنَا خَيْرًا مِّنْهَآ اِنَّآ اِلٰى رَبِّنَا رٰغِبُوْنَ ﴿٣٢﴾ كَذٰلِكَ الْعَذَابُ ط وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ اَكْبَرُ ج لَوْ كَانُوْا
يَعْلَمُوْنَ ﴿٣٣﴾ اِنَّ لِلْمُتَّقِيْنَ عِنْدَ رَبِّهِمْ جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ﴿٣٤﴾ اَفَنَجْعَلُ الْمُسْلِمِيْنَ كَالْمُجْرِمِيْنَ ﴿٣٥﴾

وقف لازم

ظلم کوؤنکی (۲۹) نو مخامخ شول بعضِ دَ دوی په بعضو باندے ملامته کول ئیے یو بل لره (۳۰) دوی اُوئیل هائے تباهی ده مونږ لره یقیناً مونږ یو دَ حدنه تیروتونکی (۳۱) امید دے چه رب زمونږه به په بدله کښ راکړی غوره دَ دے نه یقیناً مونږ رب ته رغبت کوؤنکی یو (۳۲) داسے عذاب وی او خامخا عذاب دَ اخرت ډیر لوئے دے که چرے دوی پوهیدل (۳۳) یقیناً متقیانو لره په نیز دَ رب دَ دوی جنتونه دَ نعمتونو دی (۳٤) ایا کرځوؤ به مونږ مسلمانان پشان دَ مجرمانو (۳۵)

حال وی! نو اووئیل ئیے چه مونږلارخطاکړیده ﴿بَلْ نَحْنُ مَحْرُوْمُوْنَ﴾ یعنی روستودَ سوچ او دَ فکر کولونه دَ خپل حرمان اقرارئیے اوکړو۔ اودَ دے په مناسبت سره قرطبی حدیث دَابن مسعودؓ مرفوع ذکرکړے دے چه دَګناهونونه ځان ساتئے ځکه بنده چه یوګناه اوکړی نودَ هغے دَ وجے دَتیار رزق نه محرومه شی۔

[۲۸] ﴿اَلَمْ اَقُلْ لَّكُمْ﴾ دلیل دے چه دغه شخص دوی ته تبلیغ اودعوت کړیوؤدَ تسبیح وئیلو اودَ شرك نه دَ ځان بچ کولو لیکن دوی دعوت اونه منلو اوهغه هم دَ دوی نه برائت اونکړونودَ هغه په حصّه باندے هم عذاب راغے۔ نوعذاب په دوی باندے په سبب دَ شرك کولو سره راغلو۔

[۲۹] دا اعتراف دَ دوی دے په ظلم خپل باندے اوتوبه ده په داسے حال کښ چه اوس خوورته فائده نه ورکوی۔ هاں لیکن ائنده دَپاره فائده منه ده۔

[۳۰] ﴿يَتَلَاوَمُوْنَ﴾ یعنی یوتن به بل ته وئیل چه تادا مشوره راکړے وه چه مسکینان به منع کوؤ نوبل به اوئیل چه تا امرکړے وؤدَبخل کولونوبل به اوئیل چه تاوئیلی وؤچه دَ اللّٰه تعالیٰ سره دَ نورو اولیاؤ بزرګانو په نوم باندے نذرانے ورکول سبب دَبرکاتودے یعنی یوبل ئیے ملامته کولو۔

[۳۲،۳۱] فرق په مینځ دَ ظلم اودَ طغیان کښ دلته دادے چه شرك کولوته ئیے ظلم اووئیلو ځکه چه اللّٰه تعالیٰ فرمائیلی دی (اِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيْمٌ) اومسکنیانومنع کولوته ئیے طغیان او ویلوځکه چه پدے کښ دَ حدنه تجاوزکول او ناشکری دَ نعمتونو دَ اللّٰه تعالیٰ ده۔ فرق په مینځ دَ تبدیل او ابدال کښ دا دے تبدیل تغییر دَ حال اودَ صفت دَ یو څیز دے سرهٔ دَ بقا دَ اصل نه او ابدال لرے کول دَ یوځیزوی اوراړول دَ بل ځیزوی په ځائے دَ هغے باندے ﴿اِنَّآ اِلٰى رَبِّنَا رٰغِبُوْنَ﴾ حسن بصریؒ نه روایت دے چه ځه نه پوهیږم چه داکلمه دَ دوی ایمان راوړل اوتوبه کول دی اوکه نه دَ مشرکانو په طریقه باندے صرف په سختئی کښ اللّٰه تعالیٰ ته رجوع کول دی دارنګ دَ قتاده نه هم دَدوی په باره کښ توقف ثابت دے۔ اونورډیراهلِ علموونیلی دی چه دوی توبه اوکړه او ایمان ئیے راوړے دے او اللّٰه تعالیٰ ورله نور باغونه ورکړل۔

[۳۳] دا متعلق دے دَ انابلوناهم سره یعنی عذاب دَ اهل مکه صرف په دُنیا کښ نه دے بلکه چه توبه اونه باسی نو په اخرت کښ هم عذاب دے۔ یا عام دے لکه چه اصحاب الجنة (باغ والو) لره عذاب دَ دُنیا

مَا لَكُمْ ۪ كَيْفَ تَحْكُمُوْنَ ﴿٣٦﴾ اَمْ لَكُمْ كِتٰبٌ فِيْهِ تَدْرُسُوْنَ ﴿٣٧﴾ اِنَّ لَكُمْ فِيْهِ لَمَا تَخَيَّرُوْنَ ﴿٣٨﴾ اَمْ لَكُمْ
اَيْمَانٌ عَلَيْنَا بَالِغَةٌ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ ۙ اِنَّ لَكُمْ لَمَا تَحْكُمُوْنَ ﴿٣٩﴾ سَلْهُمْ اَيُّهُمْ بِذٰلِكَ زَعِيْمٌ ﴿٤٠﴾
اَمْ لَهُمْ شُرَكَآءُ ۚ فَلْيَاْتُوْا بِشُرَكَآئِهِمْ اِنْ كَانُوْا صٰدِقِيْنَ ﴿٤١﴾ يَوْمَ يُكْشَفُ عَنْ سَاقٍ وَّيُدْعَوْنَ

څه دليل دے ستاسو څه رنګه فيصلے کوئے (٣٦) ايا تاسو لره کتاب دے چه په هغے کښ لوستل کوئے (٣٧) يقيناً تاسو لره په هغے کښ هغه څيز دے چه تاسو ئے خو خوئے (٣٨) ايا تاسو لره قسمونه دی په مونږ باندے رسيدونکی تر ورځ دَ قيامت پورے چه يقيناً ستاسو دپاره هغه ده چه تاسو کومه فيصله کوئے (٣٩) تپوس اوکړه دَ دوی نه چه کوم يو دَ دوی نه په دے باندے ذمه وار دے (٤٠) ايا دوی لره شريکان شته (دَ اللّٰه سره) پس نو دوی دِ راولی د غه شريکان دَ دوی که چرے دوی رشتينی وی (٤١) په کومه ورځ چه لرے به کړے شی پرده دَ پنډئے نه او اوبه بللے شی دوی

ورکړے شوپه سبب دَشرک اودَ منع دَ صدقے په نوم دَ اللّٰه تعالیٰ او بخل کولوپه مسکينانو باندے نوځوک چه دا عمل کوی نودَ هغوی دَپاره په دنيا کښ هم عذاب دے اوپه اخرت کښ هم دے په دے شرط سره چه توبه اونه باسی۔ قاسمی په اخردَ دے قصّه کښ ذکرکړی دی چه په دے سره هغه کسانوباندے هم رد دے چه زکوٰة اداکولونه ځان په حيلوسره بچ کوی لکه چه بعضِ علماؤ حيلے دَ اسقاطِ زکوٰة يا اسقاط شفعه دَپاره ليکلی دی اونسبت دَجواز ئے احنافوعلماؤته کوی۔

[٣٤] دَ دے ايت نه دويم باب دے اوخلاصه ئے په ابتدا کښ ذکرکړے شويده روستو دَ ذکر دَتخويف نه بشارت ذکرکوی او فرق دَ فريقينو ذکروی۔

[٣٥] په دے کښ رد دَ هغه چادے چه دَ ايمان والواوکفروالوپه عاقبت کښ فرق نه کوی۔ ﴿كَالْمُجْرِمِيْنَ﴾ مجرم هغه دے چه ښکاره خپل ګناهونه کوی اوتوبه نه اوباسی۔

[٣٦] په دے کښ نفی دَ دليل عقلی ته اشاره ده ﴿مَالَكُمْ﴾ يعنی کوم دليل عقلی دے ستاسو په نجات باندے ﴿كَيْفَ﴾ زجر دے په حکم بے دليله باندے ۔

[٣٨،٣٧] په دے کښ نفی دَ دليل نقلی ده يعنی داسے کتاب چه دَ اللّٰه تعالیٰ دَطرف نه وی اوپه هغے کښ دليل وی ستاسو په شرك باندے نوداسے کتاب تاسوسره نيشته ﴿لَمَا تَخَيَّرُوْنَ﴾ نه مراد شرك کول يا عقيده دَشفاعتِ شرکيه ده۔

[٤٠،٣٩] دا نفی دَ دليل وحی (وعداللّٰه) ده ﴿اَيْمَانٌ عَلَيْنَا﴾ قسمونه اوعهدونه دَ اللّٰه تعالیٰ دَطرف نه چه پوره کول ئے په هغهٔ باندے واجب دی ځکه چه حرف دَعلی په وجوب باندے دلالت کوی ﴿بَالِغَةٌ﴾ پاځه اوکلك قسمونه،پدے کښ احتراز دے دَلغودَقسم نه۔مخکښ تخيرون اودلته تحکمون ذکردی فرق دا دے چه اول کښ مسلك اومذهب مراد دے يعنی شرك اوکفر بدعات کول اوپه دويم کښ دَهغه مسلك حکم دَجوازاوعدم جوازاوحلال اوحرام مراد دے ﴿سَلْهُمْ اَيُّهُمْ بِذٰلِكَ﴾ پديکښ زجردے اونفی دَ دليل دَکفالت ده اوذالك اشاره ده مضمون دَ فنجعل المسلمين کالمجرمين ته يا اشاره ده اثبات دَ قسمونوته۔

[٤١] دا نفی دَ دليل دَ تقليد ده ﴿شُرَكَآءُ﴾ يعنی داسے علماء اوپيران وغيره چه هغوی شرك او کفر

اِلَى السُّجُوْدِ فَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ ﴿٤٣﴾ خَاشِعَةً اَبْصَارُهُمْ تَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ ؕ وَقَدْ كَانُوْا يُدْعَوْنَ اِلَى السُّجُوْدِ
وَهُمْ سٰلِمُوْنَ ﴿٤٤﴾ فَذَرْنِيْ وَمَنْ يُّكَذِّبُ بِهٰذَا الْحَدِيْثِ ؕ سَنَسْتَدْرِجُهُمْ مِّنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٤٥﴾
وَاُمْلِيْ لَهُمْ ؕ اِنَّ كَيْدِيْ مَتِيْنٌ ﴿٤٦﴾ اَمْ تَسْـَٔلُهُمْ اَجْرًا فَهُمْ مِّنْ مَّغْرَمٍ مُّثْقَلُوْنَ ﴿٤٧﴾ اَمْ عِنْدَهُمُ الْغَيْبُ
فَهُمْ يَكْتُبُوْنَ ﴿٤٨﴾ فَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ وَلَا تَكُنْ كَصَاحِبِ الْحُوْتِ ۘ اِذْ نَادٰى وَهُوَ مَكْظُوْمٌ ﴿٤٩﴾ لَوْلَآ

وقف لازم

سجدے کولو ته نو دوی به نه لری طاقت (٤٢) کوزے به وی سترګے دَ دوی پټ کړے به وی دوی لره ذلت او یقیناً دوی به بللے کیدلے شول سجدے ته او دوی به روغ رمټ وؤ (٤٣) نو پریږده ما او هغه څوك چه دروغژن ګڼړی دا خبرے خامخا نیسو مونږ دوی په دمه دمه په داسے طریقه چه نه پوهیږی دوی (٤٤) او مهلت ورکوم ځه دوی لره یقیناً نیول زما پاخه دی (٤٥) ایا ته غواړے دَ دوی نه څه عوض نو دوی دَ وجے دَ تاوان نه درانه دی (٤٦) ایا دوی سره غیب (وحی) ده نو دوی لیکل کوی (دَ هغے نه) (٤٧) نو صبر کوه فیصلے دَ رب خپل پورے اومه کیږه ته پشان دَ مهی والا کله ئے چه اواز اوکړو او ووؤ هغه دَ غم نه ډك (٤٨) که نه وے

جائز کوی اودلیلونه ورسره نیشته اوتاسودَ هغوی تلقید کوئے بغیر دَ دلیل شرعی نه۔

[٤٢،٤٣] دا تخویف اخروی دے روستودَبیان دَعدم دلیل نه دَ دوی سره ﴿عَنْ سَاقٍ﴾ مراد ساق دَ اللّٰه تعالیٰ دے په دلیل دَ حدیث دَ بخاری سره چه کتاب التوحیدکښ را وړے دے چه يَكْشِفُ رَبُّنَا عَن سَاقِهِ، اوپدیکښ مذهب دَ سلف صالحینو ښکاره اوصحیح دے چه ساق په معنیٰ حقیقی سره دے اوکیفیت دَساق مجهول دے اوتاویل اوتمثیل ئے باطل مسلك دے ﴿يُدْعَوْنَ اِلَى السُّجُوْدِ﴾ دا دعوت دَ توبیخ اودَ ملامته کولودَپاره دے تعبُّداً نه دے اوحدیث صحیح کښ راغلی دی چه دا هغه خلق به وی چه په دنیاکښ اللّٰه تعالیٰ ته ئے سجدے اومونځونه کول په ریاکارئے او دَ نوم دَپاره نوهغوی به قیامت کښ دَ سجدے اراده اوکړی لیکن شا(ملا) به ئے یوتخته شی ﴿وَقَدْ كَانُوْا يُدْعَوْنَ﴾ سجودنه مراد سجده دَ اخلاص ده اللّٰه تعالیٰ ته یا مونځ کول دی اودَ دعوت نه مراد اذان اواقامت دے لیکن دوی دَ هغے اجابت نه کوؤیا مراد دَ سجود نه انقیاد دے احکامو دَ اللّٰه تعالیٰ اوقرآن اوریدلوته اومراد دَ دعوت نه عام دعوت اوتبلیغ دے او دوی هغه نه دے قبول کړے۔

[٤٤،٤٥] دا تسلّی ده رسول ﷺ ته او ورسره تخویف دنیوی دے منکرینوته ﴿الْحَدِيْثِ﴾ مراد قرآن دے یا هغه مضمون چه په دے سورة کښ ذکر کړے شو ﴿سَنَسْتَدْرِجُهُمْ﴾استدراج په اصل کښ نقل کول دی دَیوحال نه بل حال ته په تدریج(په دمه دمه)سره اواستعمالیږی په تنزل کښ یعنی دَ اعلیٰ درجے نه ځکته درجے ته په دمه دمه منتقل کیږی ﴿وَاُمْلِيْ لَهُمْ﴾یعنی دا استدراج دَ دوی دَپاره دَاکرام دَوجے نه نه دے بلکه داځویومهلت ورکول دی چه په هغے سره به ئے ګناهونه نورهم زیات شی۔

[٤٦،٤٧] پدے ایاتونوکښ رد دَ عذرونودَ منکرینودے یعنی دوی دا عذرنشی کولے چه مونږتکذیب دَ قرآن دَ دے وجے نه کوؤچه دا نبی زمونږنه ډیراجرت غواړی یا دَ دے وجے نه چه مونږله وحی دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه راځی نومونږ قرآن ته حاجت نه لرو دا دواړه خبرے نیشته ﴿الْغَيْبُ﴾ نه مراد وحی ده چه دلالت

اَنْ تَدْرَكَهٗ نِعْمَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ لَنُبِذَ بِالْعَرَآءِ وَهُوَ مَذْمُوْمٌ ﴿٤٩﴾ فَاجْتَبٰىهُ رَبُّهٗ فَجَعَلَهٗ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿٥٠﴾
وَاِنْ يَّكَادُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَيُزْلِقُوْنَكَ بِاَبْصَارِهِمْ لَمَّا سَمِعُوا الذِّكْرَ وَيَقُوْلُوْنَ اِنَّهٗ لَمَجْنُوْنٌ ﴿٥١﴾
وَمَا هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿٥٢﴾ ع

رسیدلے دہٗ تہ نعمت دَ طرف دَ رب دَ دہٗ نہ خامخا غورځولے شوے بہ وے پہ ډاګہ او دے بہ وے بدحالہ (٤٩) نو غورہ کړو دہٗ لرہ رب دَ دہٗ نو او ګرځوؤ ئے دے دَ نیکانونہ (٥٠) او یقیناً نزدے دی کافران چہ او رسوی تاتہ (مصیبت) پہ نظرونو خپلو سرہ ہرکلہ چہ دوی واوریدو قرآن او وائي دوی یقیناً دے لیونے دے (٥١) او نہ دے دا مګر نصیحت دے دپارہ دَ ټولو خلقو (٥٢)

کوی پہ تکذیب دَ قرآن باندے ﴿فَهُمْ يَكْتُبُوْنَ﴾ کښ اشارہ دہ چہ کہ دوی سرہ وحی وی نو دَ قرآن پہ مقابلہ کښ دے اولیکی چہ مخلوق تہ فرق معلوم شی۔

[٤٨] دا تسلّی دہ نبی ﷺ لرہ اوامردے پہ صبرکولو ﴿لِحُكْمِ رَبِّكَ﴾ حکم پہ معنیٰ دَ قضا دَ رب دے پہ طریقہ دَ مہلت ورکولو منکرینوتہ یاپہ معنیٰ دَ امر دَ رب دے نبی ﷺ تہ پہ تبلیغ اوصبرسرہ ﴿وَلَا تَكُنْ كَصَاحِبِ الْحُوْتِ﴾ دامنع دہ دَ تشبیہ دَ یونس علیہ السلام نہ پہ استعجال کولو کښ چہ اللّٰہ تعالیٰ ورتہ امرنہ وؤ کړے چہ تہ دَ دے قوم نہ اوزہ اوهغہ پخپل اجتهاد سرہ دَ هغوی نہ لاړو۔

[٤٩] مراد دَ نعمت نہ نبوت دَ هغہ اواجابت دَ دُعا دَهغہ اوحفاظت دَ هغہ دے ﴿وَهُوَ مَذْمُوْمٌ﴾ یعنی کہ دَ اللّٰہ تعالیٰ احسان نہ وے نوپہ بدحالت کښ بہ غورځولے شویوے اوسورۃ صافات (١٤٥) کښ نبذ دَ هغہ ذکر کړے لیکن صرف حال دَ مرض وؤ مذموم نہ وؤ۔

[٥٠] دا حال ئے ذکرکړو دَپارہ دَ ترغیب دُعاکولوتہ چہ دا سبب دَ اجتبا دے اواجتبا سبب دَ صالحیت دے مراد دَ اجتبا او صلاحیت نہ نبوت نہ دے ځکہ چہ دِے خودَ مخکښ نہ نبی وؤبلکہ مراد دا دے چہ وحی ورتہ دوبارہ شروع شوہ اوتوفیق دَ صبر ئے ورکړو۔

[٥١] دا زجردے منکرینوتہ اوتسلّی دہ رسول اللّٰہ ﷺ تہ پہ حفاظت دَ هغہ سرہ دَ سترګو دَ منکرینونہ ۔ دَ دے پہ تفسیر کښ دوہ توجیهات مشهور دی یو توجیہ دادہ چہ دَ قرآن دَ اوریدلو پہ وخت کښ دوی ډیر غصّہ کیږی نو مطلب داچہ دَ غصّے او دَ غضب پہ سترګوباندے تاتہ ګوری تا باندے رعب او دباؤ اچوی۔ دویمہ توجیہ دا دہ چہ تالرہ دَ نظرہ کوی او نظربازخلق راولی دَ دے دَپارہ چہ تا دَ نظرہ کړی نو بیمار بہ شے اوقرآن بیانول بہ پریږدے او دا دلیل دے چہ نظر لګیدل حق دی او احادیث صحیح پدے بارہ کښ ډیردی۔ ﴿وَيَقُوْلُوْنَ اِنَّهٗ لَمَجْنُوْنٌ﴾ اودَ دے خبرے جواب ئے دَ سورۃ پہ اول کښ ذکرکړے وؤ۔

[٥٢] دا ذکردَصدق دَ قرآن دے اومستلزم دے صدق دَ رسول لرہ او لِلْعٰلَمِيْنَ نہ مراد جن اوانس دی لکہ سورۃ فرقان(١) کښ وؤ۔

سُوْرَةُ الْحَآقَّةِ (٢٩) مَكِّيَّةٌ (٤٨) بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ اٰيَاتُهَا ٥٢ رُكُوْعَاتُهَا ٢

اَلْحَآقَّةُ ۙ﴿١﴾ مَا الْحَآقَّةُ ۚ﴿٢﴾ وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا الْحَآقَّةُ ؕ﴿٣﴾ كَذَّبَتْ ثَمُوْدُ وَعَادٌۢ بِالْقَارِعَةِ ﴿٤﴾ فَاَمَّا ثَمُوْدُ فَاُهْلِكُوْا

اُفت یقینی راتلونکے (١) څه لوئے دے یقینی اُفت راتلونکے (٢) او څه څیز پوهه کړے ئے ته چه څه دے یقینی اُفت راتلونکے (٣) دروغژن کنړلے وؤ ثمودیانو او عادیانو اُفت ټکوؤنکے دَ زړونو (٤) پس هرچه ثمودیان وؤ نو هلاك کړے شول

سورة الحاقة

ربط: دَ دے سورة دَ سورة القلم سره په ډیرو وجوهو سره دے اوله وجه دا ده چه مخکښ دواړه سورتونو کښ اثباتِ توحید اوصدق دَ رسول ذکرشونوپدے سورة کښ تخویف دُنیوی او اخروی ذکر کوی دَپاره دَمنکرینو۔دویمه وجه داچه مخکښ درے اصول ذکرشول توحید، رسالت، قرآن، اوس څلورم اصل ذکرکوی یعنی اثبات دَ قیامت۔

دعویٰ دَ سورة: تخویف دے په ذکر دَ پنځه قومونو تکذیب کوؤنکو او په ذکر دَ احوالو اواهوالو (هیبتونو) دَ قیامت، سرهٔ دَاثبات دَصدق دَ رسول اوقرآن نه په باره دَاخبار ورکولوکښ دَ احوالودَ قیامت نه اودعویٰ دَتوحید په (٥٢)کښ اودرے اسماء حسنیٰ دَ اللّٰه تعالیٰ ذکرکوی اللّٰه، رب، عظیم او رد دَ شرك فی العلم په (٤٩) کښ ذکر دے۔

خلاصه دَ سورة: ذکردَعظمت شان دَ قیامت دے په (١،٢،٣) کښ اوتخویف په نزول دَ عذاب په منکرینودَ قیامت ذکرکوی چه هغه پنځه قومونه مشهور وؤ دَ(٤) نه تر(١٢)پورے بیا ذکرکوی احوال اوهیبتونه دَ قیامت درے قسمه اول قسم احوال دَ فنادَعالم دی تر(١٦) پورے۔ بیا دویم قسم احوال دَ قیام دَ قیامت دی په (١٧،١٨)کښ اول قسم اوه اودویم درے احوال دی نومجموعه لس شول۔ بیادریم قسم اوپه هغے کښ دَ اصحاب یمین لس احوال تر(٢٤) پورے بیا دَ اصحاب الشمال احوال تر(٣٧) پورے ذکرکوی۔ بیا ذکردَ علتونو دَ عذاب په (٣٣،٣٤)کښ دے بیا ذکرکوی صدق دَ رسول اودَکتاب په یو شهادت سره اوذکرکوی اُوه اوصاف دَ هغوی نفیاً اوثبوتاً اوپه اخرکښ امرپه تسبیح سره چه دعویٰ دَ توحید ده۔

تفسیر

[٣،٢،١] پدیکښ اثبات دَ قیامت دے په صفت دَالحاقة سره درے کرته نودا اشاره ده زیات هیبت دَهغے ته، قیامت ته دَ الحاقة وئیلودیرے وجے دی اوله وجه، هغه ساعت چه یقیناً بلاشك واقع کیدونکے دے۔ دویمه وجه هغه حالت چه په هغے کښ یقینی څیزونه واقع کیږی یعنی بعث، حشر،حساب کتاب، میزان وغیره ﴿وَمَآ اَدْرٰىكَ﴾ یحییٰ بن سلام اوسفیان بن عیینه نه روایت دے چه کوم ځائے په قران کښ وما ادراك ذکر دے نوورپسے دَ هغے علم ورکړے شوے وی اوکوم ځائے چه مایدریك دے نودَ هغے علم ئے ندے ورکړے۔

بِالطَّاغِيَةِ ۝٥ وَاَمَّا عَادٌ فَاُهْلِكُوْا بِرِيْحٍ صَرْصَرٍ عَاتِيَةٍ ۝٦ سَخَّرَهَا عَلَيْهِمْ سَبْعَ لَيَالٍ وَّثَمٰنِيَةَ
اَيَّامٍ ۙ حُسُوْمًا فَتَرَى الْقَوْمَ فِيْهَا صَرْعٰى ۙ كَاَنَّهُمْ اَعْجَازُ نَخْلٍ خَاوِيَةٍ ۝٧ فَهَلْ تَرٰى لَهُمْ مِّنْۢ
بَاقِيَةٍ ۝٨ وَجَآءَ فِرْعَوْنُ وَمَنْ قَبْلَهٗ وَالْمُؤْتَفِكٰتُ بِالْخَاطِئَةِ ۝٩ فَعَصَوْا رَسُوْلَ رَبِّهِمْ فَاَخَذَهُمْ اَخْذَةً

په سخته چغه (٥) او هر چه عادیان وؤ نو هلاك کړے شول په سیلئ تیزے دَ حدنه تیروتونکے (٦) او چلوله هغه په دوی باندے اوه شپے او اته ورځے پرله پسے نو لیدلو تا دغه قوم په هغے کښ پرمخے پراته ګویا چه دوی ویخونه دَ کجورو غورځیدلو دی (٧) نو ایا وینے ته دوی لره چه څوك ترے پاتے شوی وی (٨) او راغے فرعون او هغه څوك چه دَ دهٗ نه مخکښ وؤ او التپه اړولے شوی کلی په غټ ګناه سره (٩) نو نافرمانی ئیے او کړه دَ رسول دَ رب دَ دوی نه نو اونیول ئیے دوی په نیولو

[٤] روستودَ اثبات دَ قیامت نه دَ تخویف دنیوی نمونے ذکرکوی چه دَ تکذیب دَوجے نه په هغوی باندے قسماقسم عذابونه راغلی ووپه دے ایت کښ دوه قومونه ذکرشول ﴿بِالْقَارِعَةِ﴾ داهم نوم دَ قیامت دے په دے کښ دوه وجے دی اوله وجه داچه قارعة دَ قرع نه ده سخت ټکولوته وئیلے کیږی نو قیامت په سبب دَ هیبتونو سره زړونو لره سخت ټکوی۔ دویمه وجه دَ مبرد نه نقل ده چه دا دَ قرعه نه ماخوذ دے یعنی دَ قرعة پشان به څوك کامیاب شی اوځوك به ناکام شی۔

[٥] ﴿بِالطَّاغِيَةِ﴾ دَ حدنه تیره شوے چغه وه لکه په سورة قمر(٣١) کښ ذکر وه یا هغه کارونه چه دَ حدنه ورتیر وؤ یعنی کفر اوشرك اوناقه (اوښه) وژل اوتکذیب دَ قیامت اوتکذیب دَ رسول چه صالح علیه السلام وؤنوبا سببیه ده۔

[٦،٧،٨] په دے کښ ذکر دَ عذاب دَ قوم عاد دے او احوال دَ عذاب په دوی باندے اته ذکرکوی ۔ په اول ایت کښ درے احوال دی۔ اهلاك په سیلئ، صرصر اوعاتیة۔ یا داچه دَ هغه ملائکو دَ قابونه ورتیره وه کوم چه په هواګانو باندے مقرر دی ﴿سَبْعَ لَيَالٍ﴾ بقاعی وئیلی دی چه دا سیلئ دَ شوال دَ میاشتے په اخری اتو ورځو کښ وه چه شروع ئیے دَ ورځ دَ چارشنبے (دَ شورو ورځ) نه شوے وه او دَ بلے چار شنبے په مابنام باندے اودریدله ﴿حُسُوْمًا﴾ پدے کښ ډیر اقوال دی۔ پرله پسے، دَ ویخه ویستونکے، پرے کوؤنکے، همیشه، سپیرهٗ اوبے خیره په باره دَ دوی کښ ﴿اَعْجَازُ نَخْلٍ﴾ اعجاز جمع دَ عجز ده دَ تنے لاندنے حصّے ته وئیلے کیږی (مونډان) یعنی دوی په غټ والی کښ پشان دَ مونډانو دَکجورو وؤ ﴿خَاوِيَةٍ﴾ ډے چه مینځ ئیے وَینو او چینجو خوړلے وی۔ یا پریوتلے په زمکه باندے۔

[٩] پدے ایت کښ دَ تخویف دنیوی دوه نورے نمونے ذکرکوی قوم فرعون او قوم لوط(علیه السلام) ﴿وَمَنْ قَبْلَهٗ﴾ تیرشوی مکذبین مراد دی چه دَ هغوی علم دَ اللّٰه تعالیٰ سره دے یا صرف قوم دَ شعیب علیه السلام مراد دے۔ ﴿وَالْمُؤْتَفِكٰتُ﴾ هغه کلی چه اپوټه کړے شوپه وخت دَ عذاب کښ لکه چه دَ هغے باره کښ لوستلے شویدی جَعَلْنَا عَالِيَهَا سَافِلَهَا، او دا دَ قوم دَ لوط علیه السلام پنځه کلی وؤ ﴿بِالْخَاطِئَةِ﴾ یعنی ډیرګناهونه دَ کفر اوشرك اونارینه استعمالول اونور خبائث داهغه کارونه دی چه هر دَ عقل خاوند دے ته غلط اوخطا وائی۔

[١٠] دا متعلق دے دَ ټولومکذبینو سره یعنی عاد، ثمود، فرعون، قوم لوط، یا مراد دَ دے نه صرف فرعون

رَّابِيَةً ﴿١٠﴾ اِنَّا لَمَّا طَغَا الْمَآءُ حَمَلْنٰكُمْ فِي الْجَارِيَةِ ﴿١١﴾ لِنَجْعَلَهَا لَكُمْ تَذْكِرَةً وَّتَعِيَهَآ اُذُنٌ وَّاعِيَةٌ ﴿١٢﴾
فَاِذَا نُفِخَ فِي الصُّوْرِ نَفْخَةٌ وَّاحِدَةٌ ﴿١٣﴾ وَّحُمِلَتِ الْاَرْضُ وَالْجِبَالُ فَدُكَّتَا دَكَّةً وَّاحِدَةً ﴿١٤﴾ فَيَوْمَئِذٍ
وَّقَعَتِ الْوَاقِعَةُ ﴿١٥﴾ وَانْشَقَّتِ السَّمَآءُ فَهِيَ يَوْمَئِذٍ وَّاهِيَةٌ ﴿١٦﴾ وَّالْمَلَكُ عَلٰٓى اَرْجَآئِهَا ؕ وَيَحْمِلُ
عَرْشَ رَبِّكَ فَوْقَهُمْ يَوْمَئِذٍ ثَمٰنِيَةٌ ﴿١٧﴾ يَوْمَئِذٍ تُعْرَضُوْنَ لَا تَخْفٰى مِنْكُمْ خَافِيَةٌ ﴿١٨﴾ فَاَمَّا مَنْ اُوْتِيَ

سختو سره (١٠) یقیناً مونږ کله چه دَ حد نه تیرے شوے اوبه سواره کړئے مونږ تاسو په روانے کشتئ کښ (١١) دَ دے دپاره چه اوګرځوؤ دا ستاسو دپاره نصیحت اویاد اوساتی دے لره غوږونه یادوؤنکی (١٢) نو کله چه پوکے اوکړیشی په شپیلئے کښ پوکے یو (١٣) او پورته کړیشی زمکه او غرونه نو اوبه ټکولے شی په ټکولو په یو ځل (١٤) نو په دغه ورځ به واقع شی واقع کیدونکے افت (١٥) او اوبه چوی اسمان نو هغه به په دغه ورځ کمزورے وی او ملائك به په غاړو دَ هغے باندے وی او اوچتوی به عرش دَ رب ستا پورته دَ دوی نه په دغه ورځ اته (١٧) په دغه ورځ پیش به کړے شئے تاسونه پټیږی ستاسو نه هیڅ پټیدونکے (١٨) نو هغه څوك چه ورکړیشی

او قوم لوط دے او ﴿رَسُوْلَ﴾ جنس دے مراد دَ دے نه ګنړ رسولان دی ﴿رَابِيَةً﴾ زیات عذاب دَ دوی په نورو عذابونو باندے ځکه دَ دوی جرمونه هم دَ نورونه زیات وویا رابیه په معنیٰ دَ سخت ده۔

[١١،١٢] دا پنځمه نمونه دَعذاب دنیوی ده اواشاره ده عذاب دَقوم نوح ﷺ ته ﴿طَغَا الْمَآءُ﴾ دَ حد دَ عاموا وبونه ورتیرے شوے یا ورتیرے شوے دَقابو کولودَ ملائکونه تردے پورے چه غرونه پکښ پټ شول۔ ﴿تَذْكِرَةً﴾ په روستنو کشتوسره کشتے دَنوح ﷺ یادیږی یا په دغه واقعے سره مسئله دَ توحید یادیږی اودارنګ پدے سره عذاب دَمنکرینو اونجات دَ مؤمنانو یادیږی ﴿وَتَعِيَهَآ اُذُنٌ وَّاعِيَةٌ﴾ دا دلیل دے چه ضمیرد َ ها په مخکښ جمله کښ هم واقعے اوقصّے ته راجع دے ځکه چه وعی صفت دَکشتئے نشی کیدے۔

[١٣] تراوسه هیبت اوعظمت دَ قیامت ذکرشو اوس کیفیات او احوال ذکرکوی چه درے قسمه دی۔ اول قسم حالات دَ فنا دی اوهغه اُوه ذکرکوی تر(١٧) نیم ایت پورے۔

[١٤] پدیکښ دوه حالتونه دَ دوؤ ځیزونو(زمکه اوغرونه) ذکرکوی ﴿دَكَّةً﴾ ماتولو اوټکولوته وئیلے کیږی او دارنګ هموارېدلوته هم وئیلے کیږی یعنی اول به اوټکولے شی بیا به دَ یوبل سره هموار کړے شی نوټول به یو میدان ښکاری۔

[١٥] پدے ایت کښ ځلورم حال دے اونوم دَ قیامت ئے په الواقعه سره ایخے دے لکه چه سورة الواقعة کښ تیرشویدے۔

[١٦] په دے کښ پنځم اوشپږم حال ذکردے۔ انشقاق دَ اسمان، او وَهِيَ دَ هغے، انشقاق نه مراد دَ هغے ټکړے کیدل اوشلیدل دی۔

[١٧] په دے کښ اوم حال ذکردے چه ملائك به په غاړو دَ اسمان باندے وی هغه غاړے چه روغے وی۔ اومَلَكٌ اسم جنس مراد ترینه ټول ملائك سماویه دی ﴿وَيَحْمِلُ عَرْشَ﴾ دَ دے ځائے نه دویم قسم حالات شروع شواوهغه درے دی اول دا دے ﴿فَوْقَهُمْ﴾ دا صریح نص دے چه عرش دَ اللّٰه تعالیٰ پورته دے ﴿يَوْمَئِذٍ﴾

كِتٰبِيَهْ بِيَمِيْنِهٖ ۙ فَيَقُوْلُ هَآؤُمُ اقْرَءُوْا كِتٰبِيَهْ ﴿١٩﴾ اِنِّيْ ظَنَنْتُ اَنِّيْ مُلٰقٍ حِسَابِيَهْ ﴿٢٠﴾ فَهُوَ فِيْ عِيْشَةٍ
رَّاضِيَةٍ ﴿٢١﴾ فِيْ جَنَّةٍ عَالِيَةٍ ﴿٢٢﴾ قُطُوْفُهَا دَانِيَةٌ ﴿٢٣﴾ كُلُوْا وَاشْرَبُوْا هَنِيْٓـًٔا بِمَآ اَسْلَفْتُمْ فِي الْاَيَّامِ
الْخَالِيَةِ ﴿٢٤﴾ وَاَمَّا مَنْ اُوْتِيَ كِتٰبَهٗ بِشِمَالِهٖ ۙ فَيَقُوْلُ يٰلَيْتَنِيْ لَمْ اُوْتَ كِتٰبِيَهْ ﴿٢٥﴾ وَلَمْ اَدْرِ مَا
حِسَابِيَهْ ﴿٢٦﴾ يٰلَيْتَهَا كَانَتِ الْقَاضِيَةَ ﴿٢٧﴾ مَآ اَغْنٰى عَنِّيْ مَالِيَهْ ﴿٢٨﴾ هَلَكَ عَنِّيْ سُلْطٰنِيَهْ ﴿٢٩﴾ خُذُوْهُ

عملنامه دَ هغه په خی لاس دَ هغه کښ نو وائي به واخلئے اولولئے عملنامه زما (١٩) یقیناً ما عقیده لره چه څه به مخامخ کیږم دَ خپل حساب سره (٢٠) نو هغه به په ژوند خوشحاله کښ وی (٢١) په جنت اوچت کښ (٢٢) چه غونچکونه دَ هغے نزدے دی (٢٣) خورئے اوڅښئے په خوشحالئے سره په سبب دَ هغه عملونو چه لیږلی دی تاسو په ورځو تیرو شوؤ کښ (٢٤) او هغه څوك چه ورکړیشی عملنامه دَ هغه په کس (کینې) لاس دَ هغه کښ نو وائي به هائے ارمان چه نه وے راکړے شوے عملنامه زما (٢٥) او نه پوهیدلے چه څه به وی حساب زما (٢٦) هائے ارمان چه دا مرګ وے ختموؤنکے ما لره (٢٧) هیڅ فائده رانکړه ما لره مال زما (٢٨) بر باده شوه زما نه زوراوری زما (٢٩) اونیسئے دے

دَ احادیثو دَ ظاهری الفاظونه معلومیږی چه اوس هم دَ ملائکو (حملة العرش) دا عدد دے اوپه دغه ورځ به هم وی ﴿ثَمٰنِيَةٌ﴾ اته اشخاص دی او دا دَ احادیث مرفوعه صحیحه نه معلومیږی اوحدیث دَ ابوداؤد کښ راغلی دی چه دَ حملة العرش دَ ملائکونه دَ یوملك صفت دادے چه دَ نرمے دَ غوږونه تر اوګے پورے دَ اوو سوؤ کلونومسافت دے۔

[١٨] پدیکښ دوه حالتونه نور ذکر کوی یو عرض اوبل عدم خفاء ﴿تُعْرَضُوْنَ﴾ دا عرض دپاره دَ حساب دے یعنی هیڅ نفس اوهیڅ عمل دَ انسانانو به نشی پټیدلے بلکه دَ حساب دَپاره به په ډاګه شی۔

[١٩] دَ دے ایت نه دریم قسم احوال دَ قیامت شروع دی چه هغه تقسیم دَصحفودے اوتقسیم دَخلقودے دوه قسمونوته اول قِسم اصحاب الیمین اودَ دوی لس حالات(دَ بشارت)ذکرکوی﴿هَآؤُمُ﴾ مجموعه یوکلمه ده چه عرب ئیے دَخوشحالئے په وخت کښ ذکرکوی۔

[٢٠] دا سبب دے دَ نجات او دَ خوشحالئے ۔ یعنی عقیده دَ بعث بعد الموت او ویره دَ حساب نه سبب دَ نجات دے ﴿ظَنَنْتُ﴾ ظن په معنیٰ دَ یقین دے۔

[٢١] ﴿رَاضِيَةٍ﴾ خوشحالی دَ هغه ژوند په حدیث صحیح کښ ذکرده چه دوی باندے به مرګ اومرض سختی اوغم اوبودا والے نه راځی۔

[٢٢،٢٣] ﴿دَانِيَةٌ﴾ په هرحالت کښ به نزدے وی ملاست اوناست او اولاړ اونکیه وهونکی ټولوته به برابروی لکه په سورة رحمٰن (٥٤) کښ دی۔

[٢٤] ﴿بِمَآ اَسْلَفْتُمْ﴾ حاصل دا دے چه حقیقی سبب خو رحمت دَ اللّٰه تعالیٰ دے اوعمل سبب ظاهری دے۔

[٢٥،٢٦،٢٧] دا تخویف دے په ذکر دَ احوالو دَ اصحاب الشمال په لس طریقو سره اوپه دے کښ درے افسوسونه ارمانونه ذکرکوی ځکه چه هغه به دَ دهٗ دَ ناکاره عملونونه ډکه وی نودا افسوس په حقیقت کښ په هغه ناکاره عملونو کولوباندے دے۔ دویم افسوس په بنکاره کیدلودَ عاقبت دَ عملونودے

فَغُلُّوْهُ ﴿٣٠﴾ ثُمَّ الْجَحِيْمَ صَلُّوْهُ ﴿٣١﴾ ثُمَّ فِيْ سِلْسِلَةٍ ذَرْعُهَا سَبْعُوْنَ ذِرَاعًا فَاسْلُكُوْهُ ﴿٣٢﴾ اِنَّهٗ كَانَ
لَا يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ الْعَظِيْمِ ﴿٣٣﴾ وَلَا يَحُضُّ عَلٰى طَعَامِ الْمِسْكِيْنِ ﴿٣٤﴾ فَلَيْسَ لَهُ الْيَوْمَ هٰهُنَا حَمِيْمٌ ﴿٣٥﴾
وَّلَا طَعَامٌ اِلَّا مِنْ غِسْلِيْنٍ ﴿٣٦﴾ لَّا يَاْكُلُهٗٓ اِلَّا الْخَاطِـُٔوْنَ ﴿٣٧﴾ فَلَآ اُقْسِمُ بِمَا تُبْصِرُوْنَ ﴿٣٨﴾ وَمَا لَا

نوست ته ئے طوق واچوئے (٣٠) بیا په جهنم کښ ورننباسئے دے (٣١) بیا په هغه زنځیر کښ چه اوکدوالے دَ هغه اویا ګزه دے اویزان کړے دهٔ لره (٣٢) یقیناً دهٔ نه لرلو ایمان په اللّٰه تعالیٰ لوئے شان والا باندے (٣٣) او نه ئے ورکوله تیزی په خوراك دَ مسکین باندے (٣٤) نو نیشته دهٔ لره نن دلته کښ مخلص دوست (٣٥) او نه خوراك مګر دَ زخمونو دَ وینو زوړ نه (٣٦) نه به خوری هغه مګرډیر ګنهګاران (٣٧) نو داسے نه ده، قسم کوؤم په هغه څه چه تاسو ئے وینئ (٣٨) او په هغه څه

چه هغے ته حساب وئیلے شویدے اودریم افسوس په باره دَ دوباره ژوندی کیدلو کښ دے۔

[٢٩،٢٨] داحال دَ مالدار او اقتدارو والادے چه مال او اقتدار دواړو ورله هیڅ فائِده ورنکړه ﴿سُلْطَانِيَهْ﴾ بادشاهی او غلبه په غریبانو باندے په دنیا کښ یا مراد دَ دے نه حجتونه او دلیلونه دَ شرك اوبدعاتو دی چه په هغے باندے اهل باطل په دنیا کښ دهوکه شویدی۔

[٣٢،٣١،٣٠] پدیکښ ذکر دَ عذاب دَ باطل پرستودے په ډیر اهانت او تذلیل سره ﴿سَبْعُوْنَ ذِرَاعًا﴾ اندازه دَ ذراع اللّٰه تعالیٰ ته معلومه ده اوسبعون هم دَ زیاتوالی دَپاره استعمالیږی صرف اویا مراد نه دی په دلیل دَ حدیث دَترمذی اودَ احمد(چه حسن حدیث دے) چه یوه غټه ټکړه دَ تانبے به دَ اسمان نه زمکے ته را اوغورځولے شی نودَ شپے نه به مخکښ زمکے ته اورسیږی حال دا دے چه دا مسافت دَ پنځه سوه کالو دے اودا به دَ دغه زنځیرَ دَ یوسرنه ورپریخودلے شی نوځلویښت کاله به مزل اوکړی اوحال داچه دَ زنځیربل سرته به نه وی رسیدلے۔

[٣٤،٣٣] په دے کښ دوه علتونه دَ عذاب ذکرکوی اول علت حق دَ اللّٰه تعالیٰ ضائع کول دی په کفر اوشرك سره که هرقسم شرك وی اوپه لفظ العظیم (په صفت دَ اللّٰه تعالیٰ کښ) سره اشاره ده چه جرم دَ کافر ډیر غټ دے ځکه چه دَ العظیم ذات په حق کښ نقصان کوی اودویم حق دَ بندګانو(مسکینانو) بربادول دی دا وصف دَ کافرانو دے چه هغوی په مسکینانو پورے مسخرے کوی لکه سورة یٰس(٤٧) کښ دارنګ حق دَ مسکین هغه مال دے چه په نوم دَ اللّٰه تعالیٰ ورکړے شی اونوم دَ غیراللّٰه پکښ شریك نه وی اومشرك په داسے طعام باندے تیزی نه ورکوی بلکه هغه په نذر دَ غیراللّٰه اوپه طعام دَ رسمونواوبدعاتو باندے تیزی ورکوی۔

[٣٧،٣٦،٣٥] دا تفریع ده په علتونوسابقوباندے یعنی ضائع کول دَحقوقو دَ اللّٰه تعالیٰ اودَعبادوسبب دے دَ یوائے والی چه هیڅ دوست به ئے پاتے نشی اوسبب دے دَ انقطاع دَ روزئے ﴿حَمِيْمٌ﴾ هغه دوست قریب چه په وخت دَتکلیف دَ دوست کښ په هغه باندے ګرمی دَ غم راځی۔ (سوال) په سورة غاشیه(٦)کښ حصر دَ طعام دَ دوی په ضریع کښ کړے دے او دلته ئے حصر په غسلین کښ کړے دے؟ (جواب) اول دا دے چه ضریع دَ افرادو دَ غسلین نه دے لکه چه قرطبی یو احتمال ذکرکړے دے دویم دا چه

تُبْصِرُوْنَ ﴿۳۹﴾ اِنَّهٗ لَقَوْلُ رَسُوْلٍ كَرِيْمٍ ﴿۴۰﴾ وَّمَا هُوَ بِقَوْلِ شَاعِرٍ ؕ قَلِيْلًا مَّا تُؤْمِنُوْنَ ﴿۴۱﴾ وَلَا
بِقَوْلِ كَاهِنٍ ؕ قَلِيْلًا مَّا تَذَكَّرُوْنَ ﴿۴۲﴾ تَنْزِيْلٌ مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۴۳﴾ وَلَوْ تَقَوَّلَ عَلَيْنَا بَعْضَ
الْاَقَاوِيْلِ ﴿۴۴﴾ لَاَخَذْنَا مِنْهُ بِالْيَمِيْنِ ﴿۴۵﴾ ثُمَّ لَقَطَعْنَا مِنْهُ الْوَتِيْنَ ﴿۴۶﴾ فَمَا مِنْكُمْ مِّنْ اَحَدٍ

چه تاسو ئیے نه وینئ (۳۹) یقیناً دا خامخاپیغام دے دَ رسول عزت والا (۴۰) او نه ده دا وینا دَ شاعر ډیر لږ ایمان راوړئے تاسو (۴۱) او نه ده دا وینا دَ ترویتی، ډیر لږ نصیحت اخلئے تاسو (۴۲) نازل کړے شوے دے دَ طرف دَ رب دَ عالمینو نه (۴۳) او که چرے دهٔ جوړ کړے وے په مونږ باندے څه خبرے دروغ (۴۴) نو ضرور نیولے به وؤمونږ دَ دهٔ خے لاس (۴۵) بیا به خامخا پریکړے وے مونږ دَ دهٔ نه رګ دَ ستې (۴۶) نونه به وے ستاسونه هیڅوک

دا په اعتبارد اقساموډ مجرمانو سره جدا جدا حصر کړے دے ـ دریم داچه داپه اعتبار دَ مختلف اوقاتو سره دے ﴿اَلْخَاطِئُوْنَ﴾ دا دَ خطیة نه ماخوذ دے ګناه ته وئیلے شی دَ خطانه ماخوذنه دے۔

[۳۹،۳۸] ماتبصرون اومالاتبصرون ټولومشاهداتواومغیباتوته شامل دی که اموردنیوی دی اوکه اخروی اوکه محسوسات دی اوکه معقولات دی اوکه اجسام دی اوکه ارواح بشردی اوکه جن وغیره دی۔ اومناسبت دَ دے قسم دَ جواب قسم سره په څو وجوهو سره دے۔ اوله وجه داچه داټول کائنات ظاهری اومعنوی دَ قرآن په صدق باندے دلالت کوی چه دا کلام دَ اللّٰه تعالیٰ دے۔ دویمه وجه داچه قرآن کښ ذکردے دَ دواړه قسمه څیزونو، محسوسات اومغیبات اودَ هغے احکام ئیے بیان کړیدی چه داکار شاعر اوکاهن نشی کولے۔

[۴۰] دا جواب قسم دے ﴿لَقَوْلُ﴾ مراد دَ قول نه تلاوت کول دی یا په معنیٰ دَ وحی دے او اضافت دے مفعول ته اومراد دَ رَسُول نه رسول بشری دے یعنی رسول اللّٰهﷺ اوپه سورة تکویر(۱۹) کښ مراد دَ رسول نه جبرئیلؑ دے په قرینه دَ روستو صفتونو ذکرکړے شوؤسره ﴿كَرِيْمٍ﴾ کرم دَ هرڅیزاجتماع دَکمالاتولائقوته وئیلے کیږی چه په هغه کښ وی نو دَ بشریت ټول کمالات په محمد رسول اللّٰهﷺ کښ جمع کړیشوی وؤ۔

[۴۲،۴۱] کهانت خبرونه ورکول دَغیبودی په دعویٰ دَعلم غیب سره په ذریعه دَنجوموبا دَحساب سره اوسبب دَهغے شیاطین وی لکه چه سورة شعراء کښ ذکرشویدی اوپه هغے خبرونوکښ اکثردروغ وی اوپه دے قرآن کښ خوټولے خبرے رشتیادی اودارنګ په دیکښ دَشیطانانوقباحتونه هم ذکرشویدی نومعلومه شوه چه دا قرآن شعراوکهانت نه دے نودانبی شاعر اوکاهن نه دے۔

فائده: په اول ایت کښ نفی دَ ایمان اودویم کښ نفی دَ تذکرذکرکړے ده وجه دا ده چه په کلام دَشاعرباندے عادةً عقیده اویقین نه حاصلیږی صرف تفریح دَ ذهن ورباندے رائځی نوایمان ورباندے نه حاصلیږی اوپه خبرودَکاهن باندے خلق تصدیق اویقین خوکوی لیکن په هغے کښ تذکیراونصیحت مقصد نه وی نودَ هریوسره ئیے دَ هغے مناسب لفظ ذکرکړے دے۔

[۴۷،۴۶،۴۵،۴۴] په دیکښ هم اثبات دَصدق دَ رسول اودَ قرآن دے په بله طریقے سره ﴿لَاَخَذْنَامِنْهُ

عَنْهُ حٰجِزِيْنَ ﴿٤٧﴾ وَاِنَّهٗ لَتَذْكِرَةٌ لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿٤٨﴾ وَاِنَّا لَنَعْلَمُ اَنَّ مِنْكُمْ مُّكَذِّبِيْنَ ﴿٤٩﴾ وَاِنَّهٗ
لَحَسْرَةٌ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ﴿٥٠﴾ وَاِنَّهٗ لَحَقُّ الْيَقِيْنِ ﴿٥١﴾ فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيْمِ ﴿٥٢﴾ ع

دهٔ لره بچ کوؤنکے (٤٧) او یقیناً دا (قرآن) خامخا نصیحت دے دپاره دَ متقیانو (٤٨) او یقیناً مونږ خامخا پوهیږوچه شته ستاسو نه تکذیب کوؤنکی (٤٩) او یقیناً دا (قرآن) خامخا افسوس دے په کافرانو باندے (٥٠) او یقیناً دا (قرآن) خامخا پوخ یقینی دے (٥١) نو پاکی وایه دَ نوم دَ رب ستا چه لوئے شان والا دے (٥٢)

بِالْيَمِيْنِ﴾ اَخَذ په معنیٰ دَ انتقام دے اومِنهُ په خپله معنیٰ سره دے اوبا په بالیمین کښ زیاتی ده او مراد دَ الیمین نه خے لاس دے لکه چه بادشاهان باغیانوته سزا ورکوی نواول ترینه خے لاس پریکړی بیائے دَ مخے نه په سټ باندے اُووهی یا مراد دَ دے نه ترِل دَ خی لاس دی دَ کارونو کولونه ﴿الْوَتِيْنَ﴾ دانوم دَهغه رګ دے چه دَ سرنه ترزړه پورے رسیدلے دے یارګ دَ ملادے۔ اوحاصل دا دے که چرے دے پیغمبرپه اللّٰه تعالیٰ باندے یوخبره په دروغه جوړه کړے وے نو اللّٰه تعالیٰ به دهٔ لره فی الحال هلاك کړے وے لیکن اللّٰه تعالیٰ هغه لره ترمرګه پورے دَ داسے هلاکت نه بچ اوساتلو دَ بدن نه ئے داسے هیڅ ټکړه نه ده جدا شوے چه په هغے سره وربانده مرګ راغلے وی اونه دَ بل چا دَ لاس نه قتل کړے شویدے۔ نومعلومه شوه چه دے رشتینے پیغمبر دے اودا طریقه دَ استدلال خاص ده دَپاره دَ صدق دَ محمد رسول اللّٰهﷺ دا دَ هریو دروغژن (دعویدار دَ نبوت) په باره کښ نه ده دَ دے وجے نه ضمیر دَ تقول صرف دهٔ ته راجع کړے دے که چرے دا دلیل عام وے نوداسے به ئے وئیلے وے چه لَوْ تَقَوَّلَ اَحَدٌ عَلَيْنَا نو اعتراض دَ مرزا غلام احمد قادیانی باطل دے چه هغه وئیلی دی که چرے څه دروغژن وے نوځه به ئے په داسے طریقے سره هلاك کړے وے نو جواب ئے دغه دے چه ذکرکړے شواو دَ دے وجے نه مسیلمة الکذاب اواسود عنسی دروغژن دعویدار دَ نبوت وؤ لیکن هغوی هم پداسے طریقے سره نه دی هلاك کړے شوی۔

[٤٨] اِنَّهٗ ضمیر راجع دے قرآن ته یارسول ته اوتخصیص دَ متقیانو دَ دے وجے نه دے چه انتفاع خاص ده په دوی پورے لکه چه په تفسیرد هدًی للمتقین کښ تیرشویدی۔

[٤٩] دا زجردے روستودَ اثبات دَ صدق دَ قرآن نه ﴿مِنْكُمْ﴾ کښ اشاره ده چه بعضِ مصدقین دی۔ ﴿وَاِنَّا لَنَعْلَمُ﴾ دا علم دَ اللّٰه تعالیٰ مخکښ دَ انزال دَ قران او روستو دَ هغے نه په دواړه حالتونو کښ یوشان دے۔

[٥١،٥٠] وَ اِنَّهٗ ضمیر راجع دے تکذیب ته او حسرة په معنیٰ دَ پښیمانتیا سره دے یا ضمیر قرآن ته راجع دے یعنی هرکله چه کافران ثوابونه دَ قرآن والوپه ورځ دَ قیامت کښ اووینی نوارمانونه به اوکړی لکه په سورة انعام(٢٧)کښ اوسورة حجر(٢) کښ دی ﴿وَاِنَّهٗ لَحَقُّ الْيَقِيْنِ﴾ دا ضمیر راجع دے قرآن ته یا حسرة ته په معنیٰ دَ تحسّرسره امریقینی واقعی، اوثابت دے۔ اوپه دے قیدکښ فائِده داده چه بعضِ وخت دَ انسان یقین راشی په باطل څیز باندے نو هغه ته حق الیقین نشی وئیلے کیدلے او دا مرتبه دَ علم الیقین نه اوچته او دَ عین الیقین نه کوزه ده۔

[٥٢] داسے تیرشوی دی په سورة واقعة (٩٦،٧٤)کښ اوبا په باسم کښ زیاتی دپاره دَ تاکید ده اومراد

سُوْرَةُ الْمَعَارِج (۷۰) مَكِّيَّةٌ (۷۹) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۴۴ رُكُوْعَاتُهَا ۲

سَاَلَ سَآئِلٌۢ بِعَذَابٍ وَّاقِعٍ ۙ﴿۱﴾ لِّلْكٰفِرِيْنَ لَيْسَ لَهٗ دَافِعٌ ۙ﴿۲﴾ مِّنَ اللّٰهِ ذِي الْمَعَارِجِ ؕ﴿۳﴾ تَعْرُجُ الْمَلٰٓئِكَةُ وَالرُّوْحُ اِلَيْهِ فِيْ يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهٗ خَمْسِيْنَ اَلْفَ سَنَةٍ ۚ﴿۴﴾ فَاصْبِرْ صَبْرًا جَمِيْلًا ۝﴿۵﴾

اوغوښتو یو غوښتونکی عذاب واقع کیدونکی(۱) کافرانو لره چه نیشته هغے لره هیڅوك اړوونکے (۲) دَ طرف د اللّٰه تعالیٰ نه چه اسمانونو والا دے (۳) ورځیژی ملائك او روح هغه ته په ورځ کښ چه دے مقدار (اندازه) دَ هغے پنځوس زره کلونه (٤) نو صبر کوه صبر خائسته (٥)

(بقیه تفسیر دَ سورة الحاقة) دَ اسم نه جنس اسماء حسنیٰ اوصفات دَ اللّٰه تعالیٰ دی یعنی دَ اللّٰه تعالیٰ دَ اسماء اوصفتونوتنزیه او پاکی وئیل دَ هرشریك اوهر قسم عیبونونه فرض ده او دا دعویٰ دَ توحید تفریع ده په اثبات دَصدق دَ رسول او دَ قرآن باندے اشاره ده چه مقصد دَ قران او رسالت صرف توحید دے۔

سورة المعارج

ربط: دَ دے سورة دَ مخکښ سورة سره په ډیرو وجوهو سره دے اوله وجه دا ده چه په هغه سورة کښ ذکرشو عظمت شان دَ عذاب دَ قیامت نوپه دے سورة کښ زجر دے په هغه چاباندے چه سوال کوی دَ دغه عذاب په باره کښ۔ دویمه وجه دا ده چه په هغه سورة کښ اوصاف دَ منکرینو ذکرکړل نو په دے سورة کښ اوصاف دَ مؤمنانو ذکرکوی۔

دعویٰ دَ سورة : زجر دے منکرینوته او تخویف اخروی دے په ذکر دَ احوالو دَ قیامت اوبشارت دے په نجات سره په ذکر دَ اوصافودَ مؤمنینو سره۔

خلاصه دَ سورة : اول زجر دے په استهزاء دَ عذاب سره، سرهٗ دَ ذکر دَ عظمت دَعذاب نه په پنځه طریقو سره اوتسلی ده تر(٥)پورے او ذکردَ پنځه احوالو دَ قیامت تر(۱۱) پورے دے بیا ذکر دَ فدیه ورکولو دے په پنځه څیزونو سره تر(۱٤) پورے بیا ذکر دَ هیبت شان دَ اور دَ جهنم او اوصاف دَ اور والو چه مجموعه لس دی تر(۲۱) پورے بیا ذکر دَ لس صفاتو دَ مؤحدینو دے سرهٗ دَ بشارت نه تر(۳٥) پورے بیا زجر دے سرهٗ دَ ذکر دَ پنځه حالاتو دَ منکرینونه تر(٤۲) پورے او اختتام دَ سورة دے په تخویف اخروی سره په پنځه حالاتو سره۔

تفسیر

[۲،۱] دا زجر دے په استعجال دَ عذاب سره ﴿سَاَلَ سَآئِلٌ﴾ نکره کښ اشاره ده چه هرڅوك چه دا سوال کوی نو لایق دَ زجر دے۔ دا دَ عذاب پنځه احوال ذکرشو، عذاب، واقع، للکافرین، لیس له دافع، من اللّٰه۔

[۳] ﴿الْمَعَارِجِ﴾ مفسرینوډیراقوال ذکرکړی دی(۱) اسمانونه(۲) مراتب دَ ملائکو(۳) لوئے درجات (٤) لوئے انعامات دَ اللّٰه تعالیٰ (٥) عظمت اواوچت والے۔

[٤] ﴿وَالرُّوْحُ﴾ مراد دَ دے نه جبرئیل علیه السلام دے او دا مشهور قول دے یا مراد دَ دے نه ارواح دَ مړودی

اِنَّهُمْ يَرَوْنَهٗ بَعِيْدًا ۝٦ وَّنَرٰىهُ قَرِيْبًا ۝٧ يَوْمَ تَكُوْنُ السَّمَآءُ كَالْمُهْلِ ۝٨ وَتَكُوْنُ الْجِبَالُ
كَالْعِهْنِ ۝٩ وَلَا يَسْـَٔلُ حَمِيْمٌ حَمِيْمًا ۝١٠ يُّبَصَّرُوْنَهُمْ ؕ يَوَدُّ الْمُجْرِمُ لَوْ يَفْتَدِيْ مِنْ عَذَابِ يَوْمِئِذٍ
بِبَنِيْهِ ۝١١ وَصَاحِبَتِهٖ وَاَخِيْهِ ۝١٢ وَفَصِيْلَتِهِ الَّتِيْ تُـْٔوِيْهِ ۝١٣ وَمَنْ فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا ۙ ثُمَّ يُنْجِيْهِ ۝١٤

یقیناً دوی وینی دا لرے (٦) او وینومونږ دا نزدے (٧) په کومه ورځ چه شی به اسمان پشان دَ تانبے ویلے کړے شوے او شی به غرونه پشان دَ رنګینے وړئے (٩) او ټپوس به نشی کولے یو دوست دَ بل دوست نه (١٠) ټول به خودلے کیږی دوی ته ارمان به کوی مجرم چه فدیه ورکړی دَ عذاب دَ دغه ورځ نه په ځامنوخپلو سره (١١) او په ښځے خپلے سره او په ورور خپل (١٢) او په خاندان خپل هغه چه دهٔ لره ئے ځائے ورکوؤ (١٣) او هغه ځوك چه په زمکه کښ دی ټول بیا بچ کړی خپل ځان لره (١٤)

(دَ نیکانو) چه اُوم اسمان ته ورځیژی ﴿خَمْسِيْنَ اَلْفَ سَنَةٍ﴾ په اوله توجیه سره دا مقدار دَ وخت دَ عروج دَ ملائکو دے دَ اَسفل سافلین نه ترعرش عظیم پورے دا قول ابن کثیرؒ ابن ابی شیبه نه نقل کړے دے اوپه سورة سجده (٥) کښ (چه مقدارِدَعروج مرادوی) نوهغه دَ دے زمکے نه تراول اسمان پورے مقداردَ عروج دے اوپه دویمه توجیه سره دا مقدار دَ ورځ دَ قیامت دے او دا منقول دے دَ ابن عباس رضی اللّٰه عنهما نه او دا مقدار په کتاب الزکوٰة کښ مسلم او ابوداؤد او نسائي په حدیث صحیح مرفوع کښ ذکرکړے دے او په سورة سجده (٥) کښ (چه مقدار دَ ورځ دَ قیامت مرادشی) نوتطبیق دا دے چه دَ ورځ دَ قیامت پنځوس مقامات دی او هرمقام زرکاله دے او دا خطیب شربینی په السراج المنیر کښ دَ یمان نه نقل کړے دے۔

[٥] دا تسلی ده اومتعلق ده دَ سأل سره یعنی دا سوال دَ دوی په طریقه دَ استهزاء سره دے نودَ هغے په مقابله کښ صبرپکار دے ﴿صَبْرًا جَمِيْلًا﴾ دا هغه صبردے چه په هغے کښ مخلوق ته شکوه نه وی نومخلوق ته نه معلومیږی چه خاوند دَ مصیبت ځوك دے۔

[٦،٧] ﴿بَعِيْدًا﴾ مراد دَ دے نه دَ عقل نه لرے والے دے یعنی انکار کوی دَ قیامت نه یا دَ زمانے لرے والے دے او قریب نه مراد دَ عقل سره مناسب یا دَ زمانے په لحاظ سره نزدے دے ځکه چه هر راتلونکے قریب وی۔

[٨،٩،١٠] ﴿السَّمَآءُ﴾ مراد دَ دے نه ټول اسمانونه دی ﴿كَالْمُهْلِ﴾ دَ ګرم تیلوویخ(خیرے) اوتانبه وئیلے کړے شوے۔ او وینے زوے دَ زخمونو۔داسے په سورة کهف(٢٩)اوسورة دخان (٤٥)کښ هم تیر شویدی۔ ﴿كَالْعِهْنِ﴾ هغه وړئے چه مشتمل وی په ډیررنګونوباندے نوغرونه هم مختلف رنګونو والادی۔ نوپه وخت دَفنابه دَ رنګینے وړئے پشان شی ﴿وَلَا يَسْـَٔلُ حَمِيْمٌ حَمِيْمًا﴾ یعنی هرانسان به په خپل ځان باندے مشغول وی نودَبل دَحال ټپوس کولوته به فراغت نه مومی اودارنګ دوستانے به هم منقطع شی لکه سورة زخرف(٢٧) اودارنګ په سورة المؤمنون (١٠١)کښ اوسورة عبس(٣٧)کښ هم دی۔

[١١] ﴿يُبَصَّرُوْنَهُمْ﴾ یعنی دا دوستان به یوبل ته ګوری اوحال دا چه دَ یوبل ټپوس به نه شی کولے۔ ﴿لَوْ يَفْتَدِيْ﴾ دَعذاب نه فدیه ورکوی دَپاره دَ بچ کیدلو اوهرکله چه بچ کیدلوکښ تلوار (تادی کول) مقصدوی نو اول به په فدیه کښ ځامن پیش کوی چه هغه ډیر محبوب اوقریب دی ۔نو اَعَز فَالْاَعَز او اَقْرَب فَالْاَقْرَب په ترتیب سره ذکرکوی۔

كَلَّا ؕ اِنَّهَا لَظٰى ﴿١٥﴾ نَزَّاعَةً لِّلشَّوٰى ﴿١٦﴾ تَدْعُوْا مَنْ اَدْبَرَ وَتَوَلّٰى ﴿١٧﴾ وَجَمَعَ فَاَوْعٰى ﴿١٨﴾ اِنَّ الْاِنْسَانَ خُلِقَ
هَلُوْعًا ﴿١٩﴾ اِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ جَزُوْعًا ﴿٢٠﴾ وَّاِذَا مَسَّهُ الْخَيْرُ مَنُوْعًا ﴿٢١﴾ اِلَّا الْمُصَلِّيْنَ ﴿٢٢﴾ الَّذِيْنَ هُمْ عَلٰى صَلَاتِهِمْ

هیڅرے نشی کیدے، یقیناً دا ګرمے لمبے دی (۱۵) راخکونکے دے خرمن دَ اندامونو لره (۱۶) اواز به کوی هغه چاته چه شاکړیده او مخ ئے ګرځولے دے (۱۷) او مال ئے جمع کړیوؤ نو په لوخو کښ کیخودلے وؤ (۱۸) یقیناً انسان پیدا کړے شویدے ډیر حرصناك (۱۹) کله چه او رسیږی دهٔ ته مصیبت نو فریادونه کوی (۲۰) او کله چه اورسیږی دهٔ ته خیر نومنع کول کوی (۲۱) لیکن مونځ ګذاران (۲۲) هغه کسان چه هغوی په خپلو مونځونو باندے

[۱۲، ۱۳، ۱۴] انسان طبعی طور سره عارګنړی چه خپله ښځه په فدیه کښ ورکړی لیکن دَ قیامت سختی دومره زیاته ده چه مجبوراً به خپله ښځه هم فدیه کښ ورکوی ﴿وَاَخِيْهِ﴾رورهم سبب دَ نصرت دے دَ سختئے په وخت کښ ﴿وَفَصِيْلَتِهِ﴾ فصیلة په اصل کښ ټکړے دَ بدن ته وئیلے شی او مراد ترینه نزدے خاندان دے یا مراد ترینه مور ده ﴿وَمَنْ فِي الْاَرْضِ﴾ په دے کښ قبیلے او دوستان ټول داخل دی۔

[۱۵، ۱۶] ﴿لَظٰى﴾ هغه اور چه دَ هغے لمبے ډیرے اوتیزے وی او دا دَ جهنم دَ یوطبقے نوم دے ﴿لِلشَّوٰى﴾ جمع دَ شواة ده لاس اوخپے او سر او خرمنے اوپلے او پیوندونوته وئیلے کیږی نو شامل دے ټول بدن ته ۔

[۱۷، ۱۸] ﴿تَدْعُوْا﴾ دُعا په معنیٰ دَ اواز کولو سره مشهور معنیٰ ده اوپه معنیٰ دَ هلا کولو سره هم کیدے شی ﴿اَدْبَرَ وَتَوَلّٰى﴾ فرق په مینځ دَ دواړو کښ په ډیرو وجو سره دے اوله وجه دا ده چه ادبار په شاګرځولو او تولّی په مخ اړولو سره دے۔ دویمه وجه ادبار په زړه سره اوتولّی په عمل سره ﴿وَجَمَعَ﴾ مراد داچه توجه دَ دهٔ صرف مالونو دَ دُنیا او دَ هغے جمع کولوته ده چه ډیرشی لکه په سورة همزه (۲) کښ۔ ﴿فَاَوْعٰى﴾ په لوخی کښ کیخودل اشاره ده خزانه کول او دَ اللّٰه تعالیٰ په لارکښ نه خرچ کول یعنی حریص دَ دُنیا دے اوبخیل هم دے۔

[۱۹، ۲۰، ۲۱] دا نورصفات قبیحه دَ اهل ناردی ﴿خُلِقَ﴾ اشاره ده چه دا صفات په دے انسان کښ طبعی او خلقی دی او مراد دَ انسان نه کافر دے په قرینه دَ اِلَّا الْمُصَلِّيْنَ سره ﴿هَلُوْعًا﴾ دَ هلع نه دے سخت حرص اوسپکوالی ته وئیلے شی چه په حالت دَ خیراودَ شرکښ نامناسبه کارونه کوی اودَ ابن عباس رضی اللّٰه عنهما نه یو روایت دے چه تفسیردَ هلوع روستو دواړه ایاتونو کښ دے ﴿جَزُوْعًا﴾ په تکلیف اوغم اوماتم کښ هروخت فریادونه او ژړاګانے کوی هیڅ صبر اوشکر دواړه پکښ نیشته اوایمان خوعبارت دے دَ صبر اوشکرنه۔

[۲۲] دا صفتونه په مقابله دَ تیرشوی ناکاره صفتونوکښ دی اوهرکله چه صلوٰة مشتمل دے په توحید قولی اوعملی باندے اودارنګ صلوٰة سبب دَ فرق دے په مینځ دَ کفر او دَ ایمان کښ دَ دے وجے نه دا ئے اولاً ذکر کړو۔

دَآئِمُوْنَ ﴿٢٣﴾ وَالَّذِيْنَ فِيْٓ اَمْوَالِهِمْ حَقٌّ مَّعْلُوْمٌ ﴿٢٤﴾ لِّلسَّآئِلِ وَالْمَحْرُوْمِ ﴿٢٥﴾ وَالَّذِيْنَ يُصَدِّقُوْنَ
بِيَوْمِ الدِّيْنِ ﴿٢٦﴾ وَالَّذِيْنَ هُمْ مِّنْ عَذَابِ رَبِّهِمْ مُّشْفِقُوْنَ ﴿٢٧﴾ اِنَّ عَذَابَ رَبِّهِمْ غَيْرُ مَاْمُوْنٍ ﴿٢٨﴾
وَالَّذِيْنَ هُمْ لِفُرُوْجِهِمْ حٰفِظُوْنَ ﴿٢٩﴾ اِلَّا عَلٰٓى اَزْوَاجِهِمْ اَوْ مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُمْ فَاِنَّهُمْ غَيْرُ
مَلُوْمِيْنَ ﴿٣٠﴾ فَمَنِ ابْتَغٰى وَرَآءَ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْعٰدُوْنَ ﴿٣١﴾ وَالَّذِيْنَ هُمْ لِاَمٰنٰتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ

همیشوالی کوی (۲۳) او هغه کسان چه په مالونو دَ دوی کښ حصه ده مقرر (۲٤) دپاره دَ غوختونکی او دَ بے نصیبه (۲۵) او هغه کسان چه تصدیق کوی دَ ورځ دَ جزاء (۲٦) او هغه کسان چه دوی دَ عذاب دَ رب خپل نه ویره کوؤنکی دی (۲۷) یقیناً دَ عذاب دَ رب دَ دوی نه څوك په امن کښ (بے یرے) نه دے پکار (۲۸) او هغه کسان چه دَ خپلو عورتونو (دَ پردے ځایونه) ساتنه کوی (۲۹) مګر په بیبیانو خپلو باندے او په وینځو خپلو باندے یقیناً دوی نه دی ملامته کړے شوی (۳۰) نو چاچه اولټوؤ سیوا دَ دے نه نو دغه کسان دوی دَ حد نه تیروتونکی دی (۳۱) او هغه کسان چه دوی دَ امانتونو خپلو او لوظونو خپلو

[۲۳] دوام په معنیٰ دَ همیش والی دے یعنی هیڅ وخت ئے نه قضاکوی هرمونځ په خپل وخت کښ کوی او دَ دوام معنیٰ په سکون سره هم کړے شویده یعنی چه په مونځ کښ بے ځایه حرکتونه نه کوی۔

[۲۵،۲٤] دَ عبادت بدنیه نه روستوعبادتِ مالیه ذکرکوی ﴿مَعْلُوْمٌ﴾ مراد دَ دے نه تقرر شرعی دے برابره خبره ده که فرض وی اوکه واجب وی په حقوق اللّٰه کښ وی اوکه په حقوق العباد کښ وی نو داعام دے ﴿لِلسَّآئِلِ﴾ هغه دے چه خپل حاجت بنکاره کوی ۔او ﴿وَالْمَحْرُوْمِ﴾ محروم هغه دے چه حاجت نه بنکاره کوی نواکثر محروم ته ورکیدل نشی کیدلے ۔

[۲٦] تصدیق دَ ورځ دَ جزا مستلزم دے چه نیك اعمال کوی دَپاره دَ تیارئے دَ ورځ دَ قیامت اودارنګ داصفت مستلزم دے اخلاص لره په عباداتِ بدنیه اومالیه کښ دَ دے وجے نه دَ هغے عبادتونونه ئے روستو ذکرکړو۔ اوتصدیق دَ یقین نه عام دے یعنی پخپله هم په قیامت باندے عقیده ساتی او چه څوك ورله دَ هغے په باره کښ خبر ورکړی نوهم اٰمَنَّا اوصدقنا وائي اویقین خوصرف عقیدے لرلوته وئیلے کیږی۔

[۲۸،۲۷] مخکښ صفت کښ اشاره وه طاعات کولوته دَ وجے دَ یقین دَ ورځ دَ قیامت نه اوپدے صفت کښ اشاره ده اجتناب دَ معاصی ته دَ وجے دَ ویرے دَ عذاب نه ﴿مُشْفِقُوْنَ﴾ هغه خوف چه اثرئے په ظاهر باندے بنکاره کیږی او داسے خوف چه مستلزم وی رغبت لره ﴿اِنَّ عَذَابَ﴾ دا علت دَ ماقبل دے یعنی هیڅ چاله مناسب نه دی چه دَ عذاب دَ اللّٰه تعالیٰ نه بے غمه اوبے فکره شی دَ وجے دَطاعتونو خپلونه ځکه چه اللّٰه تعالیٰ باندے دَ چا دَ طاعت کولو احسان نه رائحی۔ هاں دَ عذاب الٰهی نه بے فکری خو دَ خاسرینو کار دے لکه سورة اعراف (۹۹) کښ ذکرشویدی۔

[۳۱،۳۰،۲۹] مخکښ دَ زړه اعمال ذکرشول یعنی تصدیق او اشفاق اوس دَ فرج عمل (حفاظت) ذکرکوی او حفاظت عام دے پرده کولواودَ بدکارئے نه بچ کولوته شامل دے ۔ او ماملکت ئے په ازواج باندے عطف کړیدے دلیل دے چه دَ خپلے وینځے (مملوکے) سره دَ نکاح کولونه بغیر فائِده اخستل

رٰعُوْنَ ﴿٣٢﴾ وَالَّذِيْنَ هُمْ بِشَهٰدٰتِهِمْ قَآئِمُوْنَ ﴿٣٣﴾ وَالَّذِيْنَ هُمْ عَلٰى صَلَاتِهِمْ يُحَافِظُوْنَ ﴿٣٤﴾ اُولٰٓئِكَ
فِيْ جَنّٰتٍ مُّكْرَمُوْنَ ﴿٣٥﴾ فَمَالِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا قِبَلَكَ مُهْطِعِيْنَ ﴿٣٦﴾ عَنِ الْيَمِيْنِ وَعَنِ الشِّمَالِ عِزِيْنَ ﴿٣٧﴾ ع

لحاظ کوؤنکی دی (۳۲) او هغه کسان چه دوی په شهادتونو (ګواهو) خپلو کلك ولاړ دی (۳۳) او هغه کسان چه دوی په مونځونو خپلو باندے ساتنه کوؤنکی دی (۳٤) دغه کسان به په جنتونو کښ عزتمند وی (۳۵) نو څه وجه ده هغه کسانو لره چه کافران دی چه ستا طرف ته را زغلی (۳٦) دَ ځی طرف او ګس (چپ) طرف نه ډلے ډلے دی (۳۷)

جائز دی ﴿وَرَآءَ ذٰلِكَ﴾ پدیکښ هره شهوت رانی چه بغیرد نکاح شرعی اودَ مملوکیت نه وی هغه داخل ده یعنی زناکول دَنارینو استعمال کول متعه کول شغار کول وغیره ﴿الْعَادُوْنَ﴾ دَعدوان نه ماخوذ دے۔

[۳۲] ﴿لِاَمٰنٰتِهِمْ﴾ هره ذمه داری چه په انسان باندے عائد کړے شی که دَ طرف دَ اللّٰه تعالیٰ نه وی یا دَ طرف دَ مخلوق نه وی هغے ته امانت وئیلے کیږی اوهرعقد اوخبره چه جانبین په هغے باندے پابند کړے شی نو هغے ته عهدوئیلے کیږی۔ که عهود دَ اللّٰه تعالیٰ وی اوکه عهود دَ بندګانووی۔

[۳۳] شهادات جمع ده نوشامل دے شهادت دَ توحید اودَ رسالت ته او دارنګ ګواهی په حقوقو دَ بندګانو کښ صحیح اداکوی چه دَ ځپل اوپردی وغیره رعایت پکښ نه کوی او کمے زیاتے پکښ نه کوی او کتمان دَ هغے نه کوی۔

[۳٤] دَحفاظت دَ مونځ نه مراد دا دے چه دَ هغے دَ ټولوشرطونو او ارکانو په شرعی طریقے سره ادائیږی اوکړی اودس پوره کول سنن اداب واجبات پوره اداکول او دَ مفسداتو مکروهاتونه مونځ بچ ساتل دا ټول پکښ داخل دی دَ دے صفتونو په اول او اخر دواړو کښ ذکر دَ صلوٰة اوکړیشو اشاره ده چه په ایمان پسے ډیر اهم کار صلوٰة دے۔

[۳۵] دابشارت دے په سبب دَ دغه صفتونوسره۔داکرامت حقیقیه دے چه روستودَمرګ نه ملاویږی لکه سورة یٰس(۲۷) کښ۔

[۳۷،۳٦] په دے کښ زجردے منکرینوته روستو دَ حال دَ مؤمنینونه په ذکر دَپنځه حالتونو دَ هغوی سره۔ ﴿مُهْطِعِيْنَ﴾ منلے وهونکی، نیغ نیغ نظرکوؤنکی تاته، قصدکوؤنکی، مخ اړوونکی ستانه دا ټولے معانے دلته صحیح دی ﴿عِزِيْنَ﴾ ډلے ډلے کیدونکی، یعنی په اراده دَ استماع اوپه توجه سره نه کینی بلکه په اراده دَ استهزاء اومسخرے کولوسره کینی۔ په توجه سره کیناستل داسے وی چه په صفونو سره کینی لکه چه په حدیث دَ مسلم کښ راغلی دی چه صحابه کرام یوکرت ډلے ډلے ناست وؤنوﷺ ورته زورنه اوکړه اوفرمائیل ئے مَالِيَ اَرَاكُمْ عِزِيْنَ، اوپه صفونو باندے ولے نه کینئے پشان دَ صفونودَ ملائکو اوحلقه که جوړوی نوهم معلم (استاد) ته مخامخ چاپیره به ناست وی لکه چه داهم طریقه دَ صحابه کراموو په وخت دَ درس دَ هغوی کښ۔اوچه مخے ته نه کینی یواړخ بل اړخ ته کینی نودا استهزاء ده په داسے طریقے سره عملی فائده نه حاصلیږی۔

اَيَطْمَعُ كُلُّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ اَنْ يُّدْخَلَ جَنَّةَ نَعِيْمٍ ﴿٣٨﴾ كَلَّا ؕ اِنَّا خَلَقْنٰهُمْ مِّمَّا يَعْلَمُوْنَ ﴿٣٩﴾ فَلَآ اُقْسِمُ
بِرَبِّ الْمَشٰرِقِ وَالْمَغٰرِبِ اِنَّا لَقٰدِرُوْنَ ﴿٤٠﴾ عَلٰٓى اَنْ نُّبَدِّلَ خَيْرًا مِّنْهُمْ ۙ وَمَا نَحْنُ بِمَسْبُوْقِيْنَ ﴿٤١﴾
فَذَرْهُمْ يَخُوْضُوْا وَيَلْعَبُوْا حَتّٰى يُلٰقُوْا يَوْمَهُمُ الَّذِيْ يُوْعَدُوْنَ ﴿٤٢﴾ يَوْمَ يَخْرُجُوْنَ مِنَ الْاَجْدَاثِ
سِرَاعًا كَاَنَّهُمْ اِلٰى نُصُبٍ يُّوْفِضُوْنَ ﴿٤٣﴾ خَاشِعَةً اَبْصَارُهُمْ تَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ ؕ ذٰلِكَ الْيَوْمُ الَّذِيْ
كَانُوْا يُوْعَدُوْنَ ﴿٤٤﴾

ایا طمع کوی هر سړے دَ دوی نه دا چه داخل به کړیشی جنت دَ نعمتونو ته (۳۸) هیڅرے داسے نشی کیدے یقیناً مونږ پیدا کړیدی دوی دَ هغه څیز نه چه دوی ئے پیژنی (۳۹) نو داسے نه ده قسم کوؤم په رب دَ مشرقونو او مغربونو باندے یقیناً مونږ خامخا قدرت والایو (٤٠) په دے خبره چه بدل کښ راولو غوره دَ دوی نه او نه یو مونږ کمزوری (٤١) نو پریږده دوی چه عبثے خبرے کوی او لوبے کوی تردے پورے چه مخامخ به شی دَ هغه ورځ سره چه دوی سره ئے وعده کیدیشی (٤٢) په هغه ورځ چه دوی به را اوځی دَ قبرونو نه په تادئے سره گویا که دوی خپلو معبودانو ته ورزغلی (٤٣) کوزے به وی سترگے دَ دوی پټوی به دوی لره ذلت (رسوائی) دا ورځ ده هغه چه دوی سره ئے وعده کیدے شوه (٤٤)

[۳۹،۳۸] طمع دیته وائي چه یو څیز غواړی اوهیڅ اسباب ورسره نه وی یا اسباب ورسره وی لیکن هغے ته اعتبارنه ورکوی اوله طریقه دَ جنت په باره کښ دَ مشرکانو ده او دویمه طریقه دَ ایمان والوده لکه چه په سورة مائده (٨٤) کښ ذکرده ﴿اِنَّاخَلَقْنَاهُمْ﴾ یعنی دا قول دَ دوی دلالت کوی چه دوی دَ ډیر زور دعویٰ کوی لیکن دَ دوی هیڅ زور نیشته دَ دوی ماده دَ خلقت چه نطفه ده هغه کمزورے ده اوپه دے خلقت کښ دوی دَ نورو انسانانو سره برابردی نو ولے لوئي کوی۔

[٤١،٤٠] ﴿اَلْمَشَارِقِ وَالْمَغَارِبِ﴾ دَ نمراوسپوږمئے اودَ هرستوری دَپاره جدا جدا مشرق اومغرب دے یا دَنمراودَ سپوږمئے دَپاره په خپلومنزلونوکښ مشرق اومغرب دے دَ دے وجے نه جمع ئے ذکر کړیده ﴿خَيْرًا مِّنْهُمْ﴾غوره په بدنونوکښ، نواشاره ده بعث بعد الموت ته یعنی اللّٰه تعالیٰ قادردے دَ دوینه غیرچه نوی اوغټ بدنونه جوړکړی نودَ دوی په دوباره ژوند باندے هم قدرت لری۔ یا تبدیلی په اعتباردَ غوره وصف سره ده یعنی دَ دے کافرانو په ځائے به طاعت کوؤنکی پیدا کړی لکه چه سورة محمد (۳۸) کښ ذکردی نودَ هغه منکرینوپه ځائے ئے صحابه اوتابعین پیدا کړل اوهرکله چه بدنونه دَ انسانانو ډیردی اوهریو لره فناکولے شی (لکه دَ غروب پشان) اوهریولره پیداکولے شی(لکه دَ طلوع پشان) نو دَ دے وجے نه دلته ئے مشارق اومغارب هم جمع ذکرکړل۔

[٤٢] په دے کښ تسلی ده نبی ﷺ ته اودَ تخویف دَپاره پنځه احوال دَ قیامت ذکرکوی ﴿يَخُوْضُوْا﴾ په دین اسلام (توحید، رسالت اوصحابه کرامو) باندے اعتراضونه کول او اهل حق باندے طعنونه کول خوض دے ﴿وَيَلْعَبُوْا﴾ دَ دُنیا په محبت کښ مشغول کیدل لعب دے۔

[٤٣] ﴿نُصُبٍ﴾ هغه معبودان دی سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه چه دوی به صبا وختی هغوی طرف ته منلے

سُوْرَةُ نُوْحٍ (۷۱) مَكِّيَّةٌ (۷۱) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۲۸ رُكُوْعَاتُهَا ۲

(بقیه تفسیر دَ سورة المعارج) وهلے چه کوم یوبه وربانده اول لاس کیدی اوسجده به ورته اولګوی، پدے کارکښ به دوی دَیوبل نه مخکښ کیدل اودابه ئے برکت ګنړلو اونصب په زور دَ نون سره اودرولے شوے نښے ته وئیلے شی۔

[٤٤] دائیے قبیح حال دَدوی ذکرکړے دے ﴿تَرْهَقُهُمْ﴾ په ارهاق کښ معنیٰ دَ احاطے کولوده سرهٔ دَ تنګسیانه۔اوداحالت دَ ذلّت دَ دوی دے په مقابله دَ حالت دَ دنیاکښ چه دوی به ځان عزت مندګنړلواو دَ هغے وجے نه ئے دَ قرآن کریم نه مخ اړولو۔

سورة نوح (علیه السلام)

ربط: دَ دے سورة دَ ماقبل سره په ډیرو وجو سره دے اوله وجه داده چه مخکښ تخویف اخروی ذکروؤ نوپه دے سورة کښ تخویف دنیوی ذکرکوی۔ دویمه وجه دا ده چه مخکښ سورة ملك کښ دعویٰ ذکروه اواتباع دَ رسول اوبیا تخویف اخروی ذکرشونو اوس طریقه دَدعوت ذکرکوی۔ دریمه وجه دا ده چه په سورة ملك کښ اثبات دَتوحید وؤ په عقلی دلیلونو سره بیا اثبات دَرسالت او تخویف اخروی ذکرشونو اوس دلیل نقلی ذکرکوی دَنوح علیه السلام نه۔

دعویٰ دَسورة : بیان دَ طریقے دَ دعوت الی اللّٰه اوتشجیع ده په دعوت باندے سرهٔ دَ تخویف دنیوی نه په واقعه دَ نوح علیه السلام سره۔

خلاصه دَ دے سورة : اول، دعوت دَ نوح علیه السلام دے په درے اوامرو سره او دوه فائدے ئے دَ هغے ذکرکړی دی نوداپنځه امور شول (١،٢،٣،٤) کښ ۔دویم مخالفت دَقوم دَ هغه په پنځه طریقو سره په (٦،٧) کښ۔دریم کیفیت دَدعوت په اعتبار دَوخت او دَ اوصافو سره په پنځه وجوهو سره په (٥) او (٨،٩) کښ ۔څلورم ترغیب توحید ته (استغفارته) په پنځه نعمتونو سره په (١٠،١١،١٢) کښ ۔پنځم اثبات دَتوحید په پنځه دلیلونوعقلیو سره دَ (١٤) نه تر(٢٠) پورے۔ شپږم دشمنی کول دَ قوم دَ هغه دَ دهٔ سره په پنځه طریقو سره دَ (٢١) نه تر(٢٤) پورے اُوم دعوت دَقوم دَ هغه عبادت دَپنځه معبودانو(ماسویٰ اللّٰه) ته په (٢٣) کښ۔ اتم دُعاءِ شر(خیرے کول) قوم ته چه مشتمل ده په پنځه امورو باندے په (٢٤، ٢٦، ٢٧، ٢٨) کښ اوپه مینځ کښ سبب دَ عذاب دُنیوی اواخروی ذکرشوپه (٢٥) کښ۔ نهم دُعا دَ مغفرت پنځه اشخاصوته په (٢٨) کښ۔

اِنَّآ اَرْسَلْنَا نُوْحًا اِلٰى قَوْمِهٖٓ اَنْ اَنْذِرْ قَوْمَكَ مِنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝١ قَالَ يٰقَوْمِ اِنِّيْ
لَكُمْ نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ۝٢ اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ وَاتَّقُوْهُ وَاَطِيْعُوْنِ ۝٣ يَغْفِرْ لَكُمْ مِّنْ ذُنُوْبِكُمْ وَيُؤَخِّرْكُمْ
اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى ۭ اِنَّ اَجَلَ اللّٰهِ اِذَا جَاۗءَ لَا يُؤَخَّرُ ۘ لَوْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ۝٤ قَالَ رَبِّ اِنِّيْ دَعَوْتُ قَوْمِيْ

يقيناً ليږلے وؤ مونږ نوح(عليه السلام) قوم دَ هغه ته چه ويره ورکړه قوم خپل ته ورلاندے دَ دينه چه رابه شی په دوی باندے عذاب درد ناك (١) هغه اُوئيل اے قومه زما يقيناً ځه تاسو لره ويره درکوؤنکے يم ښکاره (٢) چه بندگی کوئے خاص دَ اللّٰه تعالیٰ او ويره کوئے دَ هغه نه او طاعت کوئے زما (٣) نو اوبه بخی تاسو ته گناهونه ستاسو او (روستو) اوږده به کړی تاسو تر نيټے مقررے پورے يقيناً نيټه دَ اللّٰه تعالیٰ چه کله راشی نونه روستو کيږی که چرے تاسو پوهه لرئے (٤) هغه اُوئيل اے ربه زما يقيناً ما بللے دے (توحيد ته) قوم خپل

تفسير

[١] اولنے رسول چه رد کوی په شرك دَ مشرکانو باندے نوح عليه السلام دے ﴿اَنْذِرْ﴾ انذار ويره ورکول دی دَ عذاب نه په سبب دَ انکار دَ توحيد سره نو دَ انذار معنیٰ داچه دعوت دَتوحيد اوکړه سرهٔ دَ تخويف دَعذاب نه ﴿عَذَابٌ اَلِيْمٌ﴾ عذاب دُنيوی او اخروی دواړوته شامل دے او راتلل دَ عذاب مشروط دی په شرط دَ انکار کولوسره۔

[٢،٣]په ديکښ اعلان دَرسالت خپل دے ﴿مُّبِيْنٌ﴾ښکاره انذارځکه دے چه دَهغوی په ژبه دے اوپه اخلاص سره دے اوبيائے درے مقصدونه دَ انذارذکرکړی دی اول دعوت کول بندګئے دَاللّٰه تعالیٰ ته۔دويم بچ کيدل دَ وهم، شرك اوکفر اومخالفت کولونه دريم اطاعت دَرسول نومعلومه شوه چه لوئے مقاصد دَ انبياء عليهم السلام دوه دی۔يوتوحيد دويم اتباع دَسنت۔

[٤] په دے کښ دَ توحيد او دَ سنت دوه لوئيے فائِدے ذکرکوی يو اخروی دويمه دُنيوی ﴿مِنْ ذُنُوْبِكُمْ﴾ (سوال) په حديث سره ثابت دی چه اسلام سره ټول گناهونه مخکنی ختم شی او دلته خوحرف دَ مِن دلالت کوی چه بعض گناهونه معاف کيږی۔ (جواب) دا دے چه يغفر په معنیٰ دَ يخرج دے لکه چه قرطبی يوه توجيه دا ذکرکړے ده يا مِن بعضيه دے ځکه چه گناهونه دوه قسمونه دی يوقبل الاسلام بل بعد الاسلام نو په اسلام راوړلوسره قبل الاسلام گناهونه معاف شول اوهغه بعضِ دی دَکُل نه۔ ﴿وَيُؤَخِّرْكُمْ﴾ مراد دا چه دَ عذابونونه به په امن سره ژوند درکړی ترمرګه پورے او دُنيوی منافع به هم درکړی لکه چه سورة هود(٣،٥٢) کښ تيرشويدی ﴿اِنَّ اَجَلَ اللّٰهِ﴾ په دے کښ دفع دَ يو وهم ده هغه داچه يؤخرکم نه معلوميږی چه نيټه بدليدلے شی؟ حاصل دَ جواب دا دے چه يؤخر که په هره معنیٰ سره اراده کړے شی ليکن اجل مقرره قطعی کښ روستووالے نشی راتلے ﴿لَوْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ﴾ په دے کښ زورنه ده چه تاسودُنيا پرستئے داسے مغرورکړی يئ چه دَ مرګ او دَ اجل نه جاهل شوی يئ۔

لَيْلًا وَّنَهَارًا ۝٥ فَلَمْ يَزِدْهُمْ دُعَآءِيْٓ اِلَّا فِرَارًا ۝٦ وَاِنِّيْ كُلَّمَا دَعَوْتُهُمْ لِتَغْفِرَ لَهُمْ جَعَلُوْٓا اَصَابِعَهُمْ
فِيْٓ اٰذَانِهِمْ وَاسْتَغْشَوْا ثِيَابَهُمْ وَاَصَرُّوْا وَاسْتَكْبَرُوا اسْتِكْبَارًا ۝٧ ثُمَّ اِنِّيْ دَعَوْتُهُمْ جِهَارًا ۝٨ ثُمَّ اِنِّيْٓ
اَعْلَنْتُ لَهُمْ وَاَسْرَرْتُ لَهُمْ اِسْرَارًا ۝٩ فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ ۭ اِنَّهٗ كَانَ غَفَّارًا ۝١٠ يُّرْسِلِ السَّمَآءَ
عَلَيْكُمْ مِّدْرَارًا ۝١١ وَّيُمْدِدْكُمْ بِاَمْوَالٍ وَّبَنِيْنَ وَيَجْعَلْ لَّكُمْ جَنّٰتٍ وَّيَجْعَلْ لَّكُمْ اَنْهٰرًا ۝١٢ مَا لَكُمْ

شپه او ورځ (٥) نو زیاتی نه کړو دوی لره بلنې زما مګر تیخته کول (٦) او یقیناً هر کله چه ما رابللی دی دوی (توحید ته) دپاره دَ دے چه بخنه او کړے ته دویته نو ورکړے دی دوی ګوتے خپلے په غوږونو خپلو کښ او ځانونه ئیے پټ کړیدی په جامو خپلو کښ او کلك شویدی په ضد باندے او لوئی کړیده ډیره لوئی (٧) بیا یقیناً ما رابللے دی دوی په چغے (زوره) سره (٨) بیا یقیناً ما ښکاره وینا کړیده دوی ته او پټ پټ مے وئیلی دی دوی ته په پټ وئیلو سره (٩)نو ما وئیلی دی بخنه غواړئے دَ رب خپل نه یقیناً هغه دے بخنه کوؤنکے (١٠) رالیږی به بارانونه په تاسو باندے پرله پسے (پیر) (١١) او زیاتوی تاسو لره مالونه او ځامن او درکوی به تاسو لره باغونه او درکوی به تاسو لره نهرونه (١٢) څه وجه ده ستاسو

[٥] هرکله چه دَ نوح علیه السلام ډیرعمرتیرشو لیکن دغه قوم (بغیر دَ لږو کسانونه) ایمان راؤنړلو نو نوح علیه السلام دَ دوی په باره کښ الله تعالیٰ ته شکایات او دُعاګانے شروع کړے او دَ هغه دُعاګانو په ضمن کښ دَ هغوی ټول حالاتو ته اشاره ده۔

[٦] په دے کښ دَ هغوی دَمخالفت یوطریقه ذکرکړیده ﴿فِرَارًا﴾ حقیقتاً تختیدل مراد دی یا کنایه ده دَ نفرت کولو او اعراض کولو دَ اوریدلو دَ حق نه لکه چه سورة مدثر(٥٠،٥١) کښ راځی۔

[٧] په دے کښ دَ هغوی دَمخالفت کولوځلورطریقے ذکرکړی دی﴿دَعَوْتُهُمْ لِتَغْفِرَ لَهُمْ﴾ په دے کښ مدعوالیه محذوف دے او فائِده دَ هغے ذکرده یعنی دعوتهم الی الایمان والتوحید (چه دوی له ما دعوت ورکړوایمان اوتوحیدته) دَپاره دَ فائِدے دَ غفران ﴿جَعَلُوْٓا اَصَابِعَهُمْ﴾ داسے په سورة بقره (٢٠)کښ ذکر شویدی اوغوره دا ده چه معنیٰ ظاهری مراد ده ﴿وَاسْتَغْشَوْا﴾ دلته هم معنیٰ ظاهری مراد ده سرونه اومخونه اوغوګونه په جامو کښ پټه وی چه اوریدلو دَپاره هیڅ لار پاتے نه شی یا دَ دے دَپاره چه نوح علیه السلام ته نظراونکړی یا دا چه نوح علیه السلام دوی لره اونه پیژنی۔

[٨،٩] په دے کښ دَ دعوت درے طریقے ئیے ذکرکړیدی ﴿جِهَارًا﴾ دَپاره دَ لږے کسانودے چه نزدے نه راځی اواعلان دپاره دَ ګنړو کسانو دے او اسراراً دَ هریو شخص دَپاره جدا جدا دے۔

[١٠،١١،١٢] په دے کښ دَ دعوت خلاصه ذکرکړیده یعنی استغفاردَ هرقسم کفراوشرك اوګناهونونه په زړه اوژبه او عمل سره اودَ هغے پنځه فائِدے دُنیوی ئیے ذکرکړیدی﴿مِدْرَارًا﴾مراد دا چه پرله پسے باران په داسے طریقے سره وی چه په مینځ کښ سوکړه نه راځی خوچه دَ باران ضرورت وی نودَ ضرورت مطابق اووریږی اوتباهی او نقصان ورسره نه وی ﴿وَيُمْدِدْكُمْ﴾ یعنی استغفارسبب دے دَ نزول دَ برکاتو دَپاره لکه چه په سورة اعراف (٩٦) او سورة مائده (٦٦) او سورة جن (١٦) کښ راغلی دی۔ دَ قشیری نه روایت دے چه دَ چاځه حاجت وی الله تعالیٰ ته نو استغفار دِ ورانده کوی نو حاجت به ئیے

لَا تَرْجُوْنَ لِلّٰهِ وَقَارًا ﴿١٣﴾ وَّقَدْ خَلَقَكُمْ اَطْوَارًا ﴿١٤﴾ اَلَمْ تَرَوْا كَيْفَ خَلَقَ اللّٰهُ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ طِبَاقًا ﴿١٥﴾
وَّجَعَلَ الْقَمَرَ فِيْهِنَّ نُوْرًا وَّجَعَلَ الشَّمْسَ سِرَاجًا ﴿١٦﴾ وَاللّٰهُ اَنْۢبَتَكُمْ مِّنَ الْاَرْضِ نَبَاتًا ﴿١٧﴾ ثُمَّ يُعِيْدُكُمْ
فِيْهَا وَيُخْرِجُكُمْ اِخْرَاجًا ﴿١٨﴾ وَاللّٰهُ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ بِسَاطًا ﴿١٩﴾ لِّتَسْلُكُوْا مِنْهَا سُبُلًا فِجَاجًا ﴿٢٠﴾ ع

چه نه لرئے عقیده الله تعالیٰ لره دَ لوئیے (۱۳) او یقیناً پیدا کړی ئے تاسو په مختلف حالتونو (۱٤) ایا نه ګورئے تاسو چه څه رنګ پیدا کړیدی الله تعالیٰ اُوه اسمانونه لاندے باندے (۱۵) او جوړه کړیده سپوږمئے په هغوی کښ رنړا او جوړ کړیدے نمر چراغ بلیدونکے (۱٦) او الله تعالیٰ زرغون کړی ئے تاسودَ زمکے نه زرغونول (۱۷) بیا به واپس کوی تاسو په هغے کښ او را اوباسی به تاسو بیا راویستل (۱۸) او الله تعالیٰ جوړه کړیده تاسو لره زمکه غوړیدلے (۱۹) دَ دے دپاره چه ګرځئے دَ هغے نه په لارو ارتو کښ (۲۰)

پوره کیږی۔ او په دے ایاتونو کښ پنځه حاجات ئے په طبعی ترتیب سره ذکر کړیدی اول هر انسان باران ته محتاج دے بیا مالونوته بیا ځامنوته بیا باغاتوته بیا نهرونوته۔

[۱۳] ﴿لَا تَرْجُوْنَ﴾ رجاء امید اواعتقاد اوخوف اوعلم دَپاره استعمالیږی دَد ے په وجه قرطبی دَ دے جملے دولس معانے لیکلی دی او ﴿وَقَارًا﴾ عظمت اوعزت او اثبات دَ توحید ته وئیلے کیږی۔

[۱٤] دا اول دلیل عقلی انفسی دَ توحید دے ﴿اَطْوَارًا﴾ مرتبواوحالاتودَ پیدائش ته اشاره ده اول عناصربیا مرکبات غذائیه بیا اختلاط (بدن کښ ګډیدل) بیا نطفه بیا علقه بیا مضغه بیا عظام او غوښے اوپلے او وینے بیاروح اچول بیا دنیا ته راوستل۔ بیا وړوکوالے بیا ځوانی بیا بوډاوالے او دارنګ کله روغ کله بیمار کله مالدار کله فقیر او دارنګ اختلاف دَ اخلاقو او کارونو ته هم اشاره ده داښکاره دلیل دے دَ قدرت او توحید دَ الله تعالیٰ۔

[۱۵] دا دویم دلیل عقلی آفاقی دے۔

[۱٦] دا دریم دلیل عقلی آفاقی دے۔ مشتمل دے په دوه نعمتونوباندے سرهٔ دَ اختلاف دَ هغوی نه په رنړاکولوکښ ﴿فِيْهِنَّ﴾ ذکردَ جمع مراد ترینه مفرد دے یعنی اول اسمان اودا تعبیردَ دے دَپاره دے چه دَ سپوږمئے رنړا لکه چه دَ زمکے والو دَپاره ده نو بره دَ اسمانونو دَپاره هم ده ۔اوفِی دَ طرف دَپاره دے۔ ﴿نُوْرًا﴾ هغه دے چه سرهٔ دَ تیرے نه وی او ﴿سِرَاجًا﴾ وجود دَ تیرے نه غواړی نو دَ قمر په وخت کښ تیاره دَ شپے وی او دَ شمس په وخت کښ شپه روکه شی۔

[۱۸،۱۷] داځلورم دلیل عقلی آفاقی دے اوپه دویم ایت کښ مرګ او دوباره ژوند ئے ذکرکړے دے دَپاره دَ اثبات دَ قدرت دَ الله تعالیٰ ﴿اَنْۢبَتَكُمْ﴾ مراد دَ دے نه پیدائش اونشونما دَ انسان ده چه دَ زمکے نه ئے پیداکړیدے اودَ وړوکوالی نه پس ئے لوئے کړیدے اودَ پست قد نه روستوئے دنګ قد وقامت ورکړیدے۔

[۲۰،۱۹] دا پنځم دلیل عقلی دے اول ئے ذکرکړه دا خبره چه زمکه ماده دَ پیدائش دَ انسان ده نو اوس ذکرکوی چه دا زمکه ځائے دَ معیشت دَ انسان دے ﴿بِسَاطًا﴾ یعنی دَ هغے نه فائِدے اخستل اوپه هغے کښ ارام کول ئے داسے اسان کړیدی لکه چه دَ بساط (بستره غوړیدلے) نه فائده اخستل او ارام کول

قَالَ نُوْحٌ رَّبِّ اِنَّهُمْ عَصَوْنِيْ وَاتَّبَعُوْا مَنْ لَّمْ يَزِدْهُ مَالُهٗ وَ وَلَدُهٗٓ اِلَّا خَسَارًا ﴿۲۱﴾ وَمَكَرُوْا
مَكْرًا كُبَّارًا ﴿۲۲﴾ وَقَالُوْا لَا تَذَرُنَّ اٰلِهَتَكُمْ وَلَا تَذَرُنَّ وَدًّا وَّلَا سُوَاعًا ۙ وَّلَا يَغُوْثَ وَيَعُوْقَ
وَ نَسْرًا ﴿۲۳﴾ وَ قَدْ اَضَلُّوْا كَثِيْرًا ۚ وَ لَا تَزِدِ الظّٰلِمِيْنَ اِلَّا ضَلٰلًا ﴿۲۴﴾ مِمَّا خَطِيْٓـٰٔتِهِمْ اُغْرِقُوْا

اُوئیل نوح(علیه السلام) اے ربه زما یقیناً دوی نافرمانی کوی زما او تابعداری کړیده دوی دَ هغه چاچه نه زیاتوی هغه لره مال دَ هغه او اولاد دَ هغه مګر تاوان (۲۱) او چلونه اوکړل دوی چلونه لوئے (۲۲) او دوی اُوئیل مه پریږدئے معبودان خپل او مه پریږدئے ود او نه سواع او نه یغوث اویعوق او نسر لره (۲۳) او یقیناً ګمراه کړل دوی ډیر خلق او مه زیاتوے ظالمانو لره مګر ګمراهی (۲٤) دَ وجے دَ ګناهونو دَ دوی نه دوی غرق کړیشول

اسان دی ﴿فِجَاجاً﴾ صفت دَ سبلاً دے یعنی فراخے لارے چه هغه په تلونکی باندے نه مشتبه کیږی۔

[۲۱] په دے ایاتونوکښ مخالفت دَ قوم په پنځوطریقوسره ذکرکوی اوهغه دعوت ورکول دی دَ دوی شرك ته اوخپل اولادګمراه کول دی ﴿عَصَوْنِيْ﴾عصیان شامل دے هغه اوامروته چه ذکر وو په (۳) او(۱۰)کښ ﴿وَاتَّبَعُوْامَنْ لَّمْ يَزِدْهُ﴾ اشاره ده چه دَ دهٗ په قوم کښ دوه قسمه خلق وؤیوقسم غټان(مَلَاءَ) چه خلق به ئے خپل تقلید ته رابلل هغوی خو ډیرضدیان او عنادیان وؤدَ هغوی حال په (۷)کښ ذکرشو۔ دویم قسم دَ هغوی تابعداران مقلدان وؤ چه هغوی دلیل ته نه وؤکتلی ځکه چه دَ مشرانو سره ئے دلیل نه وؤ بلکه دَ هغوی مالدارئے اوډلے ته ئے کتل چه دا سبب دَ حق پرستئے دے اوحال داچه هغه مال او اولاد دَ هغوی سبب دَخسران وؤپه طریقه دَ استدراج سره نوپه دے ایت کښ اشاره ده چه په دوی کښ شرك فی التشریع والحکم موجود وؤ۔

[۲۲] ضمیر دَ ﴿مَكَرُوْا﴾ دغه ګمراهانو مشرانوته راجع دے اومراد دَ مکرنه دعوت ورکول دی کفراوشرك ته په تلبیس او تحریف او شبهاتو سره اوپه شپه اوپه ورځ کښ لکه چه سورة سبا(۳۳) کښ ذکرده۔

[۲۳] په دے کښ اشاره ده چه په دوی کښ شرك فی الالوهیة موجود وؤ او دا تفسیر دَ مکر دَ هغوی دے﴿اٰلِهَتَكُمْ﴾ په دے کښ اشاره ده چه سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه دَ دوی ډیر معبودان وؤ لیکن دَ دغه پنځو تخصیص ئے په دے وجے سره اوکړو چه هغه دَ دوی په عقیده کښ دَ نورونه لوئے شان والا وؤاودا تخصیص بعد التعمیم دے لکه چه دَ دے وخت په جاهلانوکښ عقیده ده چه دَ ډیراولیاؤ دَ قبرونوعبادتونه کوی لیکن لوئے غوټ اولوئے بابا پکښ شیخ عبدالقادرجیلانی رحمه اللّٰه ګنړی او دَ جهل دَ وجے نه دَ قوم نوح پشان په شرك کښ اخته شوی دی۔

فائده۱: ابوبکربقاعی وئیلی دی چه دا صورتونه دَ نیکانو سړو وؤ لیکن هغه مشرکانو دَ دوی تصویرونه دَ دوی دَصفتونودَ وجے نه مختلف جوړ کړی وؤ یعنی﴿وَدًّا﴾ (ود) په رجولیت (سړیتوب)کښ کامل وؤنودوی دَ هغه شکل هم دَ سړی پشان جوړ کړے وؤ۔ او ﴿سُوَاعًا﴾ زنانه وه ډیرعبادت کوؤنکے نو دوی دَ هغے بُت دَ ښځے په شکل جوړ کړے وؤ او دَ رجال اطلاق وربانده تغلیباً کړے شویدے او ﴿يَغُوْثَ﴾ ډیر بهادر شجاع وؤ نو دوی دَ هغه تصویرپه شکل دَ ازمری (اسد) سره جوړ کړے وؤ۔ او ﴿يَعُوْقَ﴾ ډیر قوی او نیکوکارونوکښ

سبقیت کوؤنکے وؤ نو دَ هغه شکل ئیے دَ اَس په شان جوړ کړے وؤ او ﴿نَسْرًا﴾ دَ بدن نه غټ او ډیر عمر والاوؤ نو دوی دَ هغه شکل دَ لوئے مارغه (کنجے ټپوس) په شان جوړ کړے وؤ۔ نودَ دے بیان نه معلومه شوه چه دَ هغه قول چه دا نومونه دَنیکانوسړودی اوبل قول دَ واقدی په روایت سره چه دَ دوی دغه مختلف شکلونه وؤ نو دواړه قولونو کبں تعارض نیشته دے۔

فائده۲: دَ دے صفتونواومعانوپه لحاظ سره دغه مشرکانوپه هغوی پورے دَ جدا جدا حاجت پوره کولوعقیده لرله۔ (وَد) مظهردَ محبت وؤیعنی دَ دوه کسانوپه مینځ کبں دَ مینے محبت پیداکولوذمه دارئیے ګنړلو۔(سُوَاع) مظهردَ ثبات (کلکول) اوقیومیت ئیے ګنړلوچه هغے ته دَتصوف اصطلاح کبں قطب هم وئیلے شی یعنی دَ دُنیا نظام هغه چلوی۔ (یَغُوث) مظهر دَ فریاد رسئے وؤ چه هغه ته دَ تصوف په اصطلاح کبں غوث وئیلے کیږی۔ (یَعُوق) مظهردَ دفع مصبتونو وؤیعنی مصیبتونه دفع کوؤنکے اوهغه ته دافع البلا یا وئیلے شی (نَسر) مظهردَ اوګدوالی دَ عمروؤیعنی چه هغه دَ عمر دَ اوګدولو اوپه هغے کبں دَ برکت اچولوذمه واردے۔

فائده۳: امام بخاری وئیلی دی چه دا نومونه دَ نیکانو بزرګانو وؤپه قوم دَ نوح علیه السلام کبں هرکله چه هغوی مړه شول نو شیطان دغه قوم ته وسوسه اوکړه چه دا بزرګان چه کومۍځایونو کبں اوسیدل په هغے کبں ګټے (دَ نخے په طورسره) اودروئے اودغه نومونه ورله کیدے نوهغه خلقو داسے اوکړل بیاهرکله چه ډیره زمانه تیره شوه اونورخلق پیداشول اوجهل زیات شونو دغه خلقودَ هغوی عبادتونه شروع کړل او ابن کثیر دَ ابن ابی حاتم په روایت سره ذکرکړیدی دَ هغے حاصل دا دے چه دغه خلق دَ محبت دَ وجے نه اول دَ وَد په قبرباندے راجمع کیدل بیا شیطان ورله دَ هغه تصویرجوړ کړودپاره دَ یاداشت بیاځه زمانه روستو دَ هغه تصویر عبادت شروع کړے شودارنګ دَ ټولوحال دغسے وؤ نومعلومه شوه چه شرك اول دَ محبت دَ قبرونودَ اولیاؤ نه شروع شویدے بیا دَ تصویرونواودَ بُتانوعبادت شروع شودَ دے وجے نه په ابتداء دَ اسلام کبں نبی علیه السلام دَ زیارت دَ قبرونونه نهی کړے وه دَدے دَپاره چه دَ شرك دَپاره سبب جوړنشی بیا چه صحابه کرام په توحید کبں پاخه شول نو دَ زیارتِ قبور اجازت ئیے ورکړو۔

[۲٤] ﴿كَثِيْرًا﴾ دَهغه زمانے او دَ روستوزمانو په عرب اوعجم کبں چه شرك جاری دے نو دَ دے ګمراهئی بنیاد قوم دَ نوح علیه السلام کیخودلے دے اوپه هغوی باندے دَ دے ګناه حِصّه ده په دلیل دَ حدیث(مَنْ سَنَّ سُنَّةً سَيِّئَةً فَعَلَيْهِ وِزْرُهَا وَوِزْرُ مَنْ عَمِلَ بِهَا لَايُنْقَصُ مِنْ وِزْرِهٖ شَيْءٌ)۔﴿وَلَاتَزِدِ الظّٰلِمِيْنَ﴾ دا دُعاء شرده په هغه قوم باندے روستو دَد ے نه چه نوح علیه السلام لره خبر ورکړے شوچه دا خلق ایمان نه راوړی لکه چه په سورۀ هود (۳٦) کبں ذکردی ﴿اِلَّا ضَلٰلًا﴾ په معنیٰ مشهورے سره مراد دے لکه چه په ایمان کبں زیادت راځی نو دارنګ په ګمراهئی اوکفر کبں هم زیاتے راځی یا مراد دَ دے نه خسران دے۔

فَاُدْخِلُوْا نَارًا ۙ فَلَمْ يَجِدُوْا لَهُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَنْصَارًا ﴿۲۵﴾ وَ قَالَ نُوْحٌ رَّبِّ لَا تَذَرْ عَلَى
الْاَرْضِ مِنَ الْكٰفِرِيْنَ دَيَّارًا ﴿۲۶﴾ اِنَّكَ اِنْ تَذَرْهُمْ يُضِلُّوْا عِبَادَكَ وَلَا يَلِدُوْٓا اِلَّا
فَاجِرًا كَفَّارًا ﴿۲۷﴾ رَبِّ اغْفِرْ لِيْ وَلِوَالِدَيَّ وَلِمَنْ دَخَلَ بَيْتِيَ مُؤْمِنًا وَّ لِلْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ ط
وَلَا تَزِدِ الظّٰلِمِيْنَ اِلَّا تَبَارًا ﴿۲۸﴾ ع

نو داخل کړیشو اور ته نو دوی به اونه مومی ځان دپاره سیوا دَ الله تعالیٰ نه مددګاران (۲۵) او اُوئیل نوح(علیه السلام) اے ربه مه پریږده په زمکه باندے دَ کافرانو نه یو کور اباد (۲۶) یقیناً ته که چرے پریږدے دوی لره نو ګمراه به کړی بندګان ستا او نه به زیږوی مګر بدکار ډیر کفر کوونکی (۲۷) اے ربه بخنه اوکړے ماته او مور پلار زماته او هغه چاته چه ننوځی کور زما ته ایماندار او ټولو مؤمنانو نارینو ته او مؤمناتو بښځو ته او مه زیاتوے ظالمانو لره مګر تباهی (۲۸)

[۲۵] په دے کښ دَ هغه قوم عذاب دنیوی او اخروی ذکرکوی سرهٗ دَ سبب نه چه هغه خطیئات دَ هغوی دی اشاره ده چه سبب دَعذاب صرف دُعاءِ شرنه وه بلکه سبب اصلی دَ دوی ګناهونه وؤ، اوخطیئات دَ دوی مخکښ ایاتونو کښ ذکرشول لکه عَصَوُا، وَاتَّبَعُوْا، وَمَكَرُوْا، وَقَالُوْا، اَضَلُّوْا، اولویه خطیهٔ ئیے شرك وؤ ﴿فَاُدْخِلُوْا نَارًا﴾ قرطبی نقل کړی دی چه دا عذاب قبرته اشاره ده لکه چه په باره دَ فرعونیانو کښ سورة غافر(٤٦) کښ دی یامراد دَ ناراً نه هغه دے چه په بحرکښ دے لکه چه حدیث کښ ذکردی (تحت البحرنار) ﴿مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ﴾ اشاره ده چه دَدوی پنځه بزرګانو کښ هیڅ یوتن دَ دوی امداد اونکړے شولکه چه سورة احقاف (۲۸) کښ ذکردی۔

[۲۶،۲۷] دا دعاءِ شرده په هغه قوم باندے په بیخ کندئے دَهغوی سره ﴿يُضِلُّوْا عِبَادَكَ﴾ یعنی دَ دوی مثال دَ زهریلامارپشان دے چه نورو خلقوته ضرر رسوی نو دَ دوی هلاکول ضروری دی۔(سوال) نوح(علیه السلام) ته څنګه معلومه وه چه دَ دوی نه اولاد فجّار پیدا کیږی او دَ هدایت امید ترینه نیشته؟ (جواب) هغه ته په وحی سره معلومه شوه لکه چه سورة هود(۳٦) کښ ذکر دی اودا دلیل دے چه هغه خلق چه دین ته ضرر رسوی او دَ هدایت ظاهری امید ترینه نه وی پاتے شوے نوپه هغوی باندے دُعاءِ شر(خیرے) جائزدی۔ لکه چه زمونږنبی(صلی الله علیه وسلم) قنوت نازله لوستلواودارنګ موسیٰ(علیه السلام) هم فرعونیانوته خیرے کړے دی چه دَ هغے ذکرپه سورة یونس (۸۸) کښ تیرشویدے۔

[۲۸] دَ دعاءِ شرنه په کافرانوباندے روستو دُعا غواړی دپاره دَ مؤمنانوخصوصاً اوعموماً اودا ادب دَ دُعا دے چه اول خاص ذکرکوی نو بیا عام ﴿رَبِّ اغْفِرْ لِيْ﴾ دعا دَ مغفرت مستلزم نه ده ګناه لره بلکه دا اقرار دَ قصور دے په ادا دَ حق دَ عبدیت کښ دَپاره دَتضرع ﴿وَلِوَالِدَيَّ﴾ مفسرینونقل کړیدی چه دَ نوح(علیه السلام) په اباؤ کښ تر ادم(علیه السلام) پورے هیڅوك کافرنه وؤ ﴿وَلِمَنْ دَخَلَ بَيْتِيَ مُؤْمِنًا﴾ لفظ دَبیت کښ قرطبی دِیراحتمالات لیکلی دی، کوردَ نوح(علیه السلام) مسجد دَ هغه، کشتئ دَ هغه دین دَ هغه اودا ټول صحیح دی۔ او لفظ دَ مُؤمناً کښ اشاره ده چه صرف داخلیدل کافی نه دی بلکه تصدیق دَ زړه ورسره ضروری دے اوپه دے سره یوځوئیے دَ نوح(علیه السلام) او بښځه دَ هغه دَ دے دُعا نه خارج شول ځکه چه هغوی اګرچه بیت دَ نوح(علیه السلام) ته

سُوْرَةُ الْجِنِّ (۷۲) مَكِّيَّةٌ (۲۸) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۲۸ رُكُوْعَاتُهَا ۲

(بقیه تفسیر دَ سورة نوح علیه السلام) داخلیدل لیکن مؤمنان نه وؤ ﴿وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنَاتِ﴾ دا عام دے ترقیامته پورے ایمان والوته نو دا امت (زمونږ) پکښ هم داخل دے ﴿وَلَا تَزِدِ الظّٰلِمِيْنَ﴾ مخکښ دُعاءِ شرخاص وه په قوم دَ دهٔ پورے اودا دُعا عامه ده ټولو کافرانو مشرکانوته په هره زمانه کښ ﴿تَبَارًا﴾ هلاکت اوخسران ته وئیلے کیږی۔

سورة جن

اوبل نوم ئے سورة قل اوحی دے۔

ربط: دَ دے سورة دَ سورة نوح سره په ډیرو وجوهو سره دے اوله وجه داده چه مخکښ سورة کښ دلیل نقلی وو په توحید باندے دَ نوح علیه السلام نه نوپه دے سورة کښ دلیل نقلی دے دَجناتونه۔ دویمه وجه په هغه سورة کښ تشجیع وه په دعوت باندے په واقعه دَنوح علیه السلام کښ نوپه دے سورة کښ تشجیع ده په واقعه دَپیریانو سره۔

دعویٰ دَ سورة: رد دَ شرك دے په واقعه دَ جن سره اوپه دلیل وحی سره دَ نبی ﷺ نه اوپه دے کښ رد دَ شرك دے عموماً او خصوصاً رد دے په اتخاذ الولد اوپه شرك فی العلم اوفی الدعا او فی التصرف اوفی الاستعاذه باندے۔

خلاصه دَ سورة: په دے کښ اته وحی دلیلونه دی اول دَ (۱) نه تر(۱۵) پورے په دے کښ دَ جناتو دیارلس اقوال نقل دی او دویم دلیل وحی په (۱۶) کښ ترغیب دے توحید ته په وسعت دَ رزق سره او تخویف په اعراض کولو سره ۔ دریم دلیل په (۱۸)کښ دے په هغے کښ تخصیص دَ سجود دے دَ اللّٰه تعالیٰ دَپاره سرهٔ دَ رد دَ شرك فی الدعا نه۔ څلورم دلیل مخالفت دَ مشرکینو دے دَدعوت کوؤنکی نه په (۱۹) کښ۔ پنځم دلیل په (۲۰)کښ دے په رد دَ شرك فی الدعا شپږم دلیل وحی دے رد دَشرك فی التصرف په (۲۱)کښ اووم دلیل په (۲۲)کښ په رد دَ شرك فی الاستعاذه سره بیا تخویف اخروی اودنیوی په (۲۳،۲۴)کښ دے اتم دلیل وحی په (۲۵،۲۶) کښ دے په رد دَ شرك فی العلم سرهٔ دَ ذکر دَ عظمت دَ رسولانونه۔ او تفصیل دَ دیارلس اقوالو دَ جناتو دا دے اول تصدیق دَ قرآن په (۱)کښ دویم نفی دَ شرك عموماً په (۲)کښ دریم نفی دَ صاحبه او دَ ولد دَ اللّٰه تعالیٰ نه په (۳)کښ څلورم نسبت دَ سفاهت مشرکانوته په (٤)کښ پنځم تقلید دَ اباؤ په گمان دَ صدق دَ هغوی سره په (۵)کښ شپږم ذکر دَ شرك فی الاستعاذه په (٦)کښ اووم عقیده دَ انکارد بعث بعد الموت یا دَ بعثت دَ رسول په (۷)کښ۔ اتم حال دَجناتو مخکښ دَ نزولِ قرآن او روستو دَ نزول قرآن نه په (۸،۹)کښ۔ نهم عدم علم دَ دوی په غیب باندے په (۱۰)کښ۔ لسم تفرق دَ دوی مخکښ دَ نزول قران نه په (۱۱)کښ۔ اویؤولسم اظهاردَ عجزدَ دوی سرهٔ دَ رد دَشرك فی التصرف نه په (۱۲)کښ۔ دولسم ایمان دَ دوی په قران باندے سرهٔ دَ بشارت نه په (۱۳)کښ۔ دیارلسم تفرق دَ دوی روستو دَ نزول دَ قرآن نه په (۱٤،۱۵)کښ۔

قُلْ اُوْحِيَ اِلَيَّ اَنَّهُ اسْتَمَعَ نَفَرٌ مِّنَ الْجِنِّ فَقَالُوْٓا اِنَّا سَمِعْنَا قُرْاٰنًا عَجَبًا ۙ﴿١﴾ يَّهْدِيْٓ اِلَى الرُّشْدِ
فَاٰمَنَّا بِهٖ ؕ وَلَنْ نُّشْرِكَ بِرَبِّنَآ اَحَدًا ۙ﴿٢﴾ وَّاَنَّهٗ تَعٰلٰى جَدُّ رَبِّنَا مَا اتَّخَذَ صَاحِبَةً وَّلَا وَلَدًا ۙ﴿٣﴾ وَّاَنَّهٗ
كَانَ يَقُوْلُ سَفِيْهُنَا عَلَى اللّٰهِ شَطَطًا ۙ﴿٤﴾ وَّاَنَّا ظَنَنَّآ اَنْ لَّنْ تَقُوْلَ الْاِنْسُ وَالْجِنُّ عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا ۙ﴿٥﴾

ته اُوایه وحی کړیشویده ماته چه یقیناً غوږ ایښے دے یوے ډلے دَ پیریانو نه نو دوی اُوئیل یقیناً مونږ اوریدلے دے قرآن نا اشنا (مضمون والا) (۱) هدایت کوی حق ته نو ایمان راوړے دے مونږ پرے دے (قرآن) باندے او هیڅرے به شریك نه جوړ ووؤ دَ رب خپل سره هیڅوك (۲) او یقیناً اوچت دے شان دَ رب زمونږ نه ئے ده نیولے ملګرے او نه بچے (۳) او یقیناً ووؤ چه وئیل به ئے کم عقلو زمونږ نه په اللّٰه تعالیٰ باندے نا حقے خبرے (٤) او یقیناً مونږ ګمان کوؤ چه هیڅرے به اونه وائي انسانان او پیریان په اللّٰه تعالیٰ باندے دروغ (٥)

تفسیر

[۱] ﴿قُلْ اُوْحِيَ اِلَيَّ﴾ دا دلالت کوی چه نبی ﷺ په وخت دَ استماع دَ قرآن کښ دا جنات نه ووؤ لیدلی اونه دَ هغوی نه خبرووؤ بلکه روستو اللّٰه تعالیٰ ورته په وحی سره خبر ورکړو اوپه دے سره معلومه شوه چه نبی ﷺ عالم الغیب نه وؤ ﴿اسْتَمَعَ نَفَرٌ مِّنَ الْجِنِّ﴾ طریقه دَ استماع دَ دوی په سورة احقاف(۲۹) کښ ذکر ده او دا جنات دَ نینویٰ مقام وؤ۔ اووه کسان ووؤ یا نهه وؤ۔ بعضو وئیلی دی چه درے تنه دَ اهلِ حران اوخلوردَ اهلِ نصیبین وؤ۔ اوپه دے واقعه کښ ډیرے فائدے دی اول داچه معلومه شوه چه محمد رسول اللّٰه ﷺ رسول دَ بشر او دَ جن دواړو وؤ دویم دا چه جنات زمونږ په لغاتو اوژبو باندے پوهیږی پشان دَ انسانانو دریم داچه قرآن کریم داسے معجزکتاب دے چه جنات سرهٔ دَ سرکشئی نه ایمان ته مجبوره شول ﴿عَجَبًا﴾ قرآن دَ اعلیٰ درجے فصاحت اوبلاغت په وجه عجیبه دے یعنی مثال نه لری یا تعجب په دے وجه سره وؤچه په دے کښ نا اشنا مسئله (دَتوحید) وه چه دوی دغه زمانه کښ دَ یهودیانو اونصاریٰ نه دا نه وه اوریدلے۔ لکه چه مشرکانو ورته هم لَشَیْءٌ عُجَابٌ، وئیلے ووؤ په سورة صٓ (٥) کښ ذ کر دی۔

[۲] دا تفسیردَ عَجَبًا دے یعنی عجیبه والے دَ دروغواو ګمراهئی دَ وجے نه نه دے لکه چه مشرکینو ګمان کړے دے بلکه دَ هدایت اودَ ارشاد دَ وجے نه دے ﴿وَلَنْ نُّشْرِكَ بِرَبِّنَا﴾ اشاره ده چه دا جنات دَ دے نه وړاندے مشرکان ووؤ په شرك فی الربوبیة (اطاعة ابلیس) اوشرك فی الالوهیة سره۔ او دا دلیل دے چه دَ قرآن کریم دَ هدایت خلاصه رد دَ شرکیاتو دے او څوك چه قرآن لولی لفظاً او معنًی او بیا هم په شرك کښ مبتلا وی نو معلومیږی چه دوی دَ قرآن په مقصد باندے نه پوهیږی۔

[۳] ﴿جَدُّ رَبِّنَا﴾ جد په معنیٰ دَ عظمت اوغنا اوقدرت اونعمتونه اوبادشاهئی ټولوسره دلته صحیح دے ﴿مَا اتَّخَذَ صَاحِبَةً وَّلَا وَلَدًا﴾ دا رجوع دَ جناتو ده دَ محکښ باطلو عقیدونه ځکه دَ بعضِ جناتوعقیده وه چه اللّٰه تعالیٰ دَ سردارانوپیریانو دَلونړو سره نکاح کړے دے لکه چه بعضِ مفسرینو په تفسیر دَ سورة صافات (۱۵۸) کښ لیکلی دی اوبعضوعقیده ساتله چه اللّٰه تعالیٰ دَپاره ولد شته په ولد حقیقی او ولد حکمی سره۔

[٤] ﴿سَفِيْهُنَا﴾ مراد دَ دے نه هرهغه کافر اومشرك دے چه اللّٰه تعالیٰ لره شریك او ولد اوصاحبه ګڼړی او نورخلقوته دَ دے دعوت ورکوی ﴿شَطَطًا﴾ په اصل کښ بُعد(لرے والی) ته وئیلے کیږی نو کومه خبره

وَّاَنَّهٗ كَانَ رِجَالٌ مِّنَ الْاِنْسِ يَعُوْذُوْنَ بِرِجَالٍ مِّنَ الْجِنِّ فَزَادُوْهُمْ رَهَقًا ۙ﴿٦﴾ وَّاَنَّهُمْ ظَنُّوْا كَمَا
ظَنَنْتُمْ اَنْ لَّنْ يَّبْعَثَ اللّٰهُ اَحَدًا ۙ﴿٧﴾ وَّاَنَّا لَمَسْنَا السَّمَآءَ فَوَجَدْنٰهَا مُلِئَتْ حَرَسًا شَدِيْدًا وَّشُهُبًا ۙ﴿٨﴾
وَّاَنَّا كُنَّا نَقْعُدُ مِنْهَا مَقَاعِدَ لِلسَّمْعِ ؕ فَمَنْ يَّسْتَمِعِ الْاٰنَ يَجِدْ لَهٗ شِهَابًا رَّصَدًا ۙ﴿٩﴾ وَّاَنَّا لَا

او یقیناً وؤ سړی دَ انسانانو نه چه پناهی ئیے غوختله په سړو دَ پیریانونه نو زیاتی کړه دوی هغوی لره سرکشی (٦) او یقیناً دوی ګمان کوؤ لکه چه ګمان کوئے تاسو چه هیڅرے به دوباره ژوندے نه کړی اللّٰه تعالیٰ هیڅا لره (٧) او یقیناً اولټول مونږ خبرونه دَ اسمان نو اومونډلو مونږ هغه چه ډك کړیشویوؤ دَ څوکیدارانو سختونه او شغلونه (٨) او یقیناً مونږه وؤ چه کیناستلو به دَ هغے نه دَ ناستے په ځایونو کښ دپاره دَ غوږ سارنے نو چاچه غوږ سارنه اوکړه اوس اوبه مومی ځان لره شغله تیاره (٩) او یقیناً مونږ نه

چه دَ صدق اودَ عدل نه لرے وی هغے ته شطط وئیلے کیږی نوعدوان او دروغ او ظلم او دَحدنه تیریدلوته شامل دے لکه چه سورة کهف (١٤) کښ دی اومراد دَ شطط نه په دے ځائے کښ نسبت دَ شریك او ولد اوصاحبه دے اللّٰه تعالیٰ ته۔ او دا ایت دلالت کوی چه دَ قرآن کریم په علم سره دَ مخلوق حقیقت معلومیږی چه سفیه دے اوکه رشید دے۔

[٥] داهم دلیل دے چه بغیرد علم دَ قرآن نه انسان ته هرڅوك حق پرست او رشتینی ښکاره کیږی او دَ حق اوباطل تمیزنه شی کولے او دا مرتبه دَ تقلید جامد ده ﴿كَذِبًا﴾ نسبت دَ شریك او ولد اوصاحبه وغیره۔

[٦] په دے کښ رد دے په شرك فی الاستعاذه باندے چه دا سبب دَ (رهق) دے۔ یعنی په جاهلیت کښ به بعضِ انسانانوپه صحراکښ سفرکوؤ نوپیریانوبه په دوی باندے لوبے کولے اوویره ول به ئیے (ځکه چه دَ دوی سره ذکر دَ اللّٰه تعالیٰ اوصحیح دین اوکتاب اللّٰه نه وؤاودا دفع کوؤنکی دَجنّاتودی) نودَ دوی عقیده وه چه دَ هرصحرا یوذمه دار(پیرے) دے اوهغه مسافرو ته پناهی اوامن ورکولے شی نودوی به وئیل (اَعُوْذُ بِسَيِّدِ هٰذَا الْوَادِيْ مِنْ سُفَهَآءِ قَوْمِهٖ) نوهغه مشربه کشرانولره دَ هغه انسان دَ ضرر ورکولونه منع کړلونو دهٔ به په امن سره شپه تیره کړله اوکله به دغه پیری دوی ته صحیح لارخودله اوورك شوی ځیزونه به ئیے ورته واپس کول نودَانسانانو عقیده پخه شوه چه دغه جن متصرف اواختیارمند دے نودَ هغه په نوم باندے به ئیے نذرانے هم ورکولے۔

[٧] داهم قول دَجناتودے ﴿لَنْ يَّبْعَثَ اللّٰهُ اَحَدًا﴾ مراد دَ دے نه بعث بعد الموت دے یا مراد دَ دے نه بعثت دَ رسول دے یعنی دَ بعث بعد الموت او دَ بعثت دَ رسول نه دواړه ډلے پخپل ګمان سره منکردی لیکن په قرآن اوریدلو سره معلومه شوه چه داظن دَ دواړوباطل دے۔

[٨،٩] داهم اقوال دَپیریانو دی درے جملے دی په اوله کښ ذکر دَ حال دے په وخت دَنزول دَ قرآن کښ او په دویمه کښ حال دَ دوی دے مخکښ دَ نزول دَ قرآن نه او دریمه جمله متعلق ده دَ اولے جملے سره۔ ﴿مَقَاعِدَ لِلسَّمْعِ﴾ یعنی مخکښ دَ نزول دَ قرآن نه سرکش پیریان به دَ ملائکودَ خبرو دَ اوریدلو دَپاره په اسمان کښ یا دَ اسمان دَلاندے په ډیرو ځایونو کښ کیناستل اودَ ملائکونه به ئیے دَ راتلونکی وخت څه خبرے اوریدلے (دَباران طوفان زلزلے وغیره په باره کښ) او نور به ئیے ورسره دَ ځان نه دروغ جوړ کړل

نَدْرِيْٓ اَشَرٌّ اُرِيْدَ بِمَنْ فِي الْاَرْضِ اَمْ اَرَادَ بِهِمْ رَبُّهُمْ رَشَدًا ﴿۱۰﴾ وَّاَنَّا مِنَّا الصّٰلِحُوْنَ وَمِنَّا دُوْنَ ذٰلِكَ ؕ كُنَّا طَرَآئِقَ قِدَدًا ﴿۱۱﴾ وَّاَنَّا ظَنَنَّآ اَنْ لَّنْ نُّعْجِزَ اللّٰهَ فِي الْاَرْضِ وَلَنْ نُّعْجِزَهٗ هَرَبًا ﴿۱۲﴾ وَّاَنَّا

پوهیدلو ایا دَ بدئے اراده کړے شویده په هغه چاچه په زمکه کښ دی یا اراده کړیده په دوی رب دَ دوی په حق راوستلو (دَ هدایت) (۱۰) او یقیناً بعضِ زمونږ نه نیکان دی او بعضِ دَ دے نه سیوا دی وؤ مونږه ډلے مختلفو لارو والا (۱۱) او یقین راغے مونږ ته چه هیڅرے نه شوعاجز کولے اللّٰه تعالیٰ لره په زمکه کښ او نه شو عاجز کولے هغه لره په تیختے سره (۱۲) او یقیناً

اوهغه به ئے په زمکه کښ دَ کاهنانو غوکونوته را رسول نوخلقوبه گمان کوؤچه داکاهنان په غیبوباندے پوهیږی۔ لیکن دَ قرآن دَ نزول په وخت کښ په ذریعه دَملائکو(څوکیدارانو) سره دَ قرآن حفاظت اوکړے شو دپاره دَ دے چه دَ قرآن کریم په صدق کښ التباس رانشی۔

فائده: دَ اهل علمواختلاف دے چه مخکښ دَ نزول دَ قرآن نه څوکیداران دَ شیاطینودَ ویشتلودَپاره وؤاوکه نه وؤ یوقول دا دے چه بالکل نه وؤ لیکن غوره قول دا دے چه مخکښ هم داسے حال وؤ لیکن لګ وؤ اوپه وخت دَ نزول دَ قرآن کښ ډیرشول لکه چه لفظ دَ مُلِئَتْ په دے باندے دلالت کوی۔

[۱۰] شرنه مراد عذاب دے او رشداً نه مراد رسول رالیږل دی یعنی دَ اسمانونونه جنات منع کولوکښ یودَ دے دوه خبرونه وه یا دَ شرنه مراد کفرکول دی دَخلقواو رشد نه مراد ایمان راوړل دی یعنی په رالیږلو دَ رسول کښ کفرکول دی دَ منکرینو یا ایمان راوړل دی دَ مؤمنانو۔ او ﴿لَانَدْرِيْ﴾ دلیل دے چه جنات په غیبو باندے نه پوهیږی۔

[۱۱] دا هم بیان دَ حال دَ پیریانودے وړاندے دَ قرآن اوریدلونه یعنی دوی ټول کافران نه وؤ بلکه دَ انسانانو پشان په دوی کښ هم ډیرے ډلے وے څوك مسلمانان څوك یهودیان څوك نصاریٰ څوك مجوسیان، اوحسن بصری نه نقل دی چه په دوی کښ قدریه، مرجئه، خوارج، روافض، شیعه گان، سنیان وغیره ټول شته ﴿وَمِنَّا دُوْنَ ذٰلِكَ﴾ صالحون نه مراد مؤمنان او دُوْنَ نه مراد کافران مشرکان دی یا صَالِحُوْنَ، نه مراد مؤمنان او دُوْنَ نه مراد فاسقان دی۔

[۱۲] داحال دَ دوی روستودَ استماع دَ قرآن نه دے یا ذکر دَ حال دَ مؤمنانودَ هغوی دے مخکښ دَ اوریدلودَ قرآن نه ځکه چه بعضو دَ دوی نه ایمان په تورات باندے راوړے وو لکه چه سورة احقاف (۳۰) کښ تیر شویدی ﴿ظَنَنَّآ﴾ لفظ دَ ظن مشترك دے کله دَ شك په معنیٰ وی کله دَګمان په معنیٰ سره وی اوکله دَ علم او یقین په معنیٰ سره وی دلته روستنۍ معنیٰ مراد ده یعنی په دلیلونواوفکرکولوسره یا دَ تورات په ایاتونوباندے دَ ایمان په وجے سره یا دَ قرآن په اوریدلو سره مونږته یقین حاصل شویدے چه مونږ عاجز یو او قادر صرف اللّٰه تعالیٰ دے ﴿هَرَباً﴾ نه مراد تیخته کول دی اسمان ته نودَ فِي الْاَرْضِ سره به ئے مقابله صحیح شی یا دَ فی الارض نه مراد په ځمکے باندے اوسیدل دی او دَ هرب نه مراد په زمکه کښ منلے وهل دی نو مقابله صحیح ده یعنی په هیڅ حالت کښ دَ اللّٰه تعالیٰ دَ قدرت نه نشی بهرکیدلے۔

لَمَّا سَمِعْنَا الْهُدٰٓى اٰمَنَّا بِهٖ ؕ فَمَنْ يُّؤْمِنْۢ بِرَبِّهٖ فَلَا يَخَافُ بَخْسًا وَّلَا رَهَقًا ﴿١٣﴾ وَّاَنَّا مِنَّا الْمُسْلِمُوْنَ
وَمِنَّا الْقٰسِطُوْنَ ؕ فَمَنْ اَسْلَمَ فَاُولٰٓئِكَ تَحَرَّوْا رَشَدًا ﴿١٤﴾ وَاَمَّا الْقٰسِطُوْنَ فَكَانُوْا لِجَهَنَّمَ حَطَبًا ﴿١٥﴾
وَّاَنْ لَّوِ اسْتَقَامُوْا عَلَى الطَّرِيْقَةِ لَاَسْقَيْنٰهُمْ مَّآءً غَدَقًا ﴿١٦﴾ لِّنَفْتِنَهُمْ فِيْهِ ؕ وَمَنْ يُّعْرِضْ عَنْ ذِكْرِ
رَبِّهٖ يَسْلُكْهُ عَذَابًا صَعَدًا ﴿١٧﴾ وَّاَنَّ الْمَسٰجِدَ لِلّٰهِ فَلَا تَدْعُوْا مَعَ اللّٰهِ اَحَدًا ﴿١٨﴾ وَّاَنَّهٗ لَمَّا قَامَ عَبْدُ اللّٰهِ

هر کله چه واوریدلو مونږ هدایت نو ایمان راوړو مونږ په هغے نو چاچه ایمان راوړو په رب خپل نو نه به ویریږی د نقصان او نه د زیاتی نه (۱۳) او یقیناً بعضِ زمونږ مسلمانان دی او بعضِ زمونږ نه کافره روان دی نو چاچه اسلام قبول کړو نو دغه کسانو اومونډله نیغه لار (هدایت) (۱٤) او هر چه کافره روان دی نو دوی دی د جهنم دپاره خشاك (۱۵) (او دا وحی راغله) چه دا خلق روان شو په برابر لار باندے نو خامخا څښوؤ به مونږ په دوی باندے او به ډیرے (۱٦) د دے دپاره چه ازمیښت اوکړو د دوی پدیکښ او چاچه مخ واړؤ د ذکر د رب خپل نه نو داخل به کړی دهٔ لره عذاب سخت ته (۱۷) (اودا وحی ده) چه یقیناً څایونه د سجدے خاص اللّٰه تعالیٰ لره دی نومه بلئی د اللّٰه تعالیٰ سره بل څوك (مددګار) (۱۸) (او دا وحی ده) چه هرکله اودریدلو بنده د اللّٰه تعالیٰ

[۱۳] د دے نه معلومیږی چه تیرشوی اياتونوکښ حال د قرآن اوریدلونه مخکښ ذکروؤ اوپه دے کښ د هغے نه روستو حال ذکرکوی ﴿اَلْهُدٰٓى﴾ مراد د دے نه قرآن دے په قرینه د (۲) سره۔

[۱۵،۱٤] دا ذکر د حالت د تفرق د دوی دے روستو د نزول د قرآن نه۔ (سوال) په (۱۱) کښ ذکروؤ چه ډلے ډیرے دی اودلته ئے دوه ډلے ذکرکړی دی؟ (جواب) دا پشان د(۱۹) سورة حج دے یعنی د ټولوخلا صه دا دوه دی ﴿اَلْقَاسِطُوْنَ﴾ لسان العرب کتاب کښ وئیلی دی چه د دے مصدر قسوط په معنیٰ د جور او د ظلم سره راځی او د دے استعمال صرف په مجرد سره دے اوقاسطون په معنیٰ د جائرون سره دے اوقسط مصدرپه معنیٰ د عدل سره دے اوپه دے کښ اَقْسَطَ او قَسَطَ دواړه استعمالیږی ﴿لِجَهَنَّمَ حَطَبًا﴾ (سوال) پیریان د اُورنه پیدادی نو اُور سره څه رنګ عذاب ورکیدے شی؟ (جواب) اګرچه د دوی ماده د پیدائش اُور دے لیکن اللّٰه تعالیٰ دوی له داسے بدنونه ورکړی دی چه اور وربانديے اثرکولے شی لکه چه انسان د ختے نه پیدا دے لیکن د ختے ګذار چه وربانديے اوکړے شی نوبدن ئے دردکوی ۔ په دے اياتونو کښ بشارت اوتخویف دواړه ذکرشول او پدے باندے د پیریانو کلام ختم شو۔

[۱۷،۱٦] دا دویمه وحی ده اوقول د اللّٰه تعالیٰ دے په قرینه د لَاَسْقَيْنٰهُمْ (صیغه د متکلم سره) بیا په دے ایت کښ د مفسرینو دوه اقوال دی اول داچه د الطریقه نه مراد طریقه د هدایت اود توحید او ایمان ده۔ ﴿مَّآءً غَدَقًا﴾ مراد د دے نه وسعت د روزئے دے لکه چه په سورة نوح (۱۲،۱۱) کښ ذکرشول او دارنګ په سورة مائده (٦٦) او سورة اعراف(۹٦) کښ ذکر دی او﴿لِنَفْتِنَهُمْ﴾ نه مراد ابتلاء او امتحان دے په سبب د دنیوی نعمتونو سره بنا په دے قول سره دا بشارت دنیویه دے ﴿وَمَنْ يُّعْرِضْ﴾ تخویف دنیوی اواخروی دے۔ اودویم قول دا دے چه الطریقه نه مراد لار د ګمراهئی ده اولَاَسْقَيْنٰهُمْ نه مراد استدارج دے لکه سورة انعام (٤٤) کښ او لِنَفْتِنَهُمْ، نه مراد فتنه د عذاب ده ﴿عَذَابًا صَعَدًا﴾ دا تخویف اخروی دے لیکن

يَدْعُوْهُ كَادُوْا يَكُوْنُوْنَ عَلَيْهِ لِبَدًا ﴿۱۹﴾ قُلْ اِنَّمَآ اَدْعُوْا رَبِّيْ وَلَآ اُشْرِكُ بِهٖٓ اَحَدًا ﴿۲۰﴾ قُلْ اِنِّيْ ع ۱۹
لَآ اَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَّلَا رَشَدًا ﴿۲۱﴾ قُلْ اِنِّيْ لَنْ يُّجِيْرَنِيْ مِنَ اللّٰهِ اَحَدٌ ۙ وَّلَنْ اَجِدَ مِنْ

چه بلنه ئیے کوله دَ هغه نو نزدے وی خلق چه شی په هغه باندے راپنډ (۱۹) ته او وایه یقیناً ځه بلنه کوؤم دَ رب زما او نه شریکوؤم دَ هغه سره هیڅوك (۲۰) ته اُوایه یقیناً ځه نه لرم اختیار تاسو لره دَ هیڅ ضرر او نه دَ فائدے (۲۱) ته اوایه یقیناً ځه هیچرے پناهی نشی راکولے ما لره دَ اللّٰه تعالیٰ نه هیڅوك او هیچرے اوبه نه مومم سیوا دَ

قرطبی وئیلی دی چه په دیکښ اول قول حق ته قریب دے ځکه چه استقامت په هدایت کښ استعمالیږی۔

[۱۸] ﴿اَلْمَسَاجِدَ﴾ دا لفظ شامل دے مسجدونوته اواندامونودَ سجده لګولوته اوعام ځایونودَ سجدے کولوته اودا اقوال مفسرینونقل کړیدی اودرے مساجد خاصوته هم شامل دے۔ مسجد حرام، مسجد نبوی اومسجد اقصیٰ ﴿لِلّٰهِ﴾ دا نسبت دَ اللّٰه تعالیٰ تشریفاً او اکراماً دے دَ دے وجے نه چه په هغے کښ ملکیت دَغیرنه نه وی بلکه وقف وی اوپه هغے کښ به صرف دَ اللّٰه تعالیٰ ذکرکیږی اوپه دے وجے سره مسجدته دَ اللّٰه تعالیٰ کوروئیلے کیږی﴿فَلَا تَدْعُوْا مَعَ اللّٰهِ اَحَدًا﴾ ابن کثیروئیلی دی چه په دے کښ رد دے په یهود اونصاریٰ باندے چه هغوی په خپلوعبادت خانوکښ شرك کوی اوپه دے کښ رد دَشرك فی الدعاهم دے اومرادترینه عام دے په طریقه دَ ذکردَ خاص، اومراد ترینه عام دے یعنی په مسجدکښ رکوع اوسجده اوبلنه کول غیراللّٰه ته اوذکردَ نوم دَغیراللّٰه په طریقه دَتعظیم سره دا ټول حرام دی۔ اودا حرمت عام دے لیکن تخصیص دَ مساجدودَ مزید قباحت دَ وجے نه دے اوپه دے زمانه کښ جاهلانوپیرشرکی عملونه په مساجدو کښ شروع کړی دی، ځوك په مسجدکښ مونځ دَاولیاؤدَپاره کوی ځوك په مسجد کښ وظیفه دَیارسول اللّٰه او وظیفه دَیا شیخ عبدالقادر شیئاً لِلّٰه کوی ځوك دَ مسجد په محراب اودیوالونوباندے یا محمد یاغوث اعظم لیکی دا ټول دَشرك اعمال دی اودَ دے ایت نه صریح مخالفت کول دی اوقرطبی ذکرکړی دی چه په دے کښ اشاره ده چه په مسجدکښ تجارت مهٔ کوئے اودَ ورك شوی څیزونودَ طلب دَپاره اوازونه مه کوئے دنیوی مجلسونه پکښ مه کوئے۔ هاں په مسجد کښ درس دَ دینی کتابونو، قضاکول، قیدیان بندول اودینی شعرونه وئیل جائزدی په سبب دَ هغه احادیثوسره چه دَ دے په جوازباندے دلالت کوی۔

[۱۹] دَ دے ایت په تفسیرکښ دَ مفسرینو مختلف اقوال دی۔ اول قول داخلورمه وحی ده معطوف دے په اول دَ سورة باندے اوعبداللّٰه نه مراد محمدﷺ دے ﴿يَدْعُوْهُ﴾ په معنیٰ دَ عبادت دے یعنی مونځ کول اوقرآن لوستل مراد دی ﴿كَادُوْا﴾ مراد دَ دے نه حالت دَ پیریانو دے چه په نبیﷺ باندے دَ قرآن لوستلویا مونځ کولوپه وخت په ګڼړه سره راپنډکیدل دَپاره دَ اوریدلو او دَ مینے محبت دَ وجے نه۔ دویم قول دا دے چه عَبْدُاللّٰهِ نه مراد نبیﷺ اوهرمؤحد دعوت کوؤنکے دے توحید ته په هره زمانه کښ او ﴿يَدْعُوْهُ﴾ نه مراد دعوت الی اللّٰه دے او ﴿كَادُوْا﴾ نه مراد هغه انسانان مخالفت کوؤنکی دی چه دَ هغه دَ مقابلے کولو او دَ بے عزته کولو او دَ منع کولودَپاره په هغه باندے راپنډیږی۔

[۲۰،۲۱] دا هم امور وحییه دی په امردَ اللّٰه تعالیٰ سره نبیﷺ ته۔ یعنی که چرے دا خلق مخالفت

دُوْنِهٖ مُلْتَحَدًا ﴿٢٢﴾ اِلَّا بَلٰغًا مِّنَ اللّٰهِ وَرِسٰلٰتِهٖ ؕ وَمَنْ يَّعْصِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَاِنَّ لَهٗ نَارَ جَهَنَّمَ
خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ﴿٢٣﴾ حَتّٰٓى اِذَا رَاَوْا مَا يُوْعَدُوْنَ فَسَيَعْلَمُوْنَ مَنْ اَضْعَفُ نَاصِرًا وَّاَقَلُّ عَدَدًا ﴿٢٤﴾
قُلْ اِنْ اَدْرِيْٓ اَقَرِيْبٌ مَّا تُوْعَدُوْنَ اَمْ يَجْعَلُ لَهٗ رَبِّيْٓ اَمَدًا ﴿٢٥﴾ عٰلِمُ الْغَيْبِ فَلَا يُظْهِرُ عَلٰى

هغه نه ځائے دَ پناهئ (٢٢) مګر (رَسَول کوؤم) رَسَول دَ طرف دَ اللّٰه تعالیٰ نه او پیغامونه دَ هغه او چاچه نافرمانی اوکړه دَ اللّٰه تعالیٰ او دَ رسول دَ هغه نو یقیناً هغه لره اور دَ جهنم دے همیشه به وی په هغے کښ همیشه (٢٣) تر هغے پورے چه هر کله او وینی هغه (عذاب) چه دوی سره ئے وعده کیدیشی نو زرده چه پوهه به شی چه ځوك دے کمزورے امدادی او کم (لږ) شمارے والا (٢٤) ته اُوایه نه پوهیږم ځه ایا نزدے دے هغه چه تاسو سره وعده کیدیشی یابه ورکوی هغے له رب زما لرے والے (٢٥) هغه عالم دے په ټولو پټو خبرونو پس نه ورکوی خبر دَ

کوی نوته ورته حقیقت حال بیان کړه۔ په دے کښ رد دَ شرك فی الدعاء دے او رد دَ شرك فی الدعا مستلزم دے رد دَ شرك په ټولوعباداتو کښ ځکه چه الدعا هوالعبادة (الحدیث) ﴿وَلَآ اُشْرِكُ﴾ دا لفظ صریح دلالت کوی چه دعا دَ غیراللّٰه نه غوختل شرك دے ﴿قُلْ اِنِّيْ لَآ اَمْلِكُ﴾ دا هم وحی ده اوپه دے کښ علّت دے دَ ماقبل دَپاره چه شریك فی الدعا ځکه نیشته چه شریك فی التصرف نیشته اوپه دے کښ رد دَ شرك فی التصرف دے دَ نبی ﷺ نه ﴿ضَرًّا وَّلَا رَشَدًا﴾ دا الفاظ عام دی شامل دی هرشراوخیرته که بدنی وی اوکه مالی وی دنیوی اوکه دینی وی اوداسے په سورة اعراف(١٨٨) اوسورة یونس(٤٩) کښ هم تیرشویدی لیکن هلته نفی دَ مِلك وه دَ خپل ځان دَپاره او دلته نفی دَ مِلك ده دَبل چادَپاره۔

[٢٢،٢٣] دا هم وحی ده او پدیکښ رد دَ شرك فی الاستعاذه (پناهی ورکول) دے یعنی که بالفرض ځه توحید او قرآن بیانول پریکدم نو دَ اللّٰه تعالیٰ دَ عذاب نه مالره هیڅوك بچاؤ نشی راکولے ﴿لَنْ يُّجِيْرَنِيْ مِنَ اللّٰهِ اَحَدٌ﴾ دَ دے جملے او دَ روستو په مینځ کښ ډیرفرق دے اول دا چه بغیرد طلب نه پناهی ځوك نشی ورکولے اوسرهٔ دَ طلب اوکوشش نه هم ځوك پناهی نشی ورکولے دویم داچه مصیبت دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه مقرروی نو هیڅوك ئے نشی واپس کولے اوچه کوم مصیبت راغلے وی نودَ هغے نه دَ بچ کیدلوهیڅ ځائے نیشته ﴿اَبَدًا﴾ دلیل دے چه مراد دَ عصیان نه کفر اوشرك دے ځکه دَ عصیان مطلق صَرف کامل ته کیږی۔

[٢٤] ﴿مَنْ اَضْعَفُ﴾ یعنی په دُنیاکښ کافران په خپل دنیوی قوتونواوپه الهو باطلواوپه کثرت دَ افرادو باندے فخرکوی لیکن په وخت دَ عذاب کښ به دَ دوی کمزوری اوکموالے ښکاره شی، اوهرچه حق پرست خلق وی نوهغوی ځان کمزورے ګڼړی اوپه ډیروالی باندے فخرنه کوی او دَ نصرت دَ اللّٰه تعالیٰ امیدونه ساتی۔

[٢٥] دا جواب دَ سوال مقدر دے دَ مشرکینو چه دَ ذکر دَ مایوعدون نه روستو دوی وائي متیٰ هذا الوعد انکنتم صادقین، حاصل دَ جواب دے په نفی دَ علم غیب سره دَ نبی ﷺ نه یعنی راتلل دَ عذاب یقینی دی اګرچه نزدیکت اولرے والی باندے مونږته علم نیشته نودَ هغے نه ویره ضرورپکاردہ۔(سوال) په حدیث

غَيْبِهٖٓ اَحَدًا ﴿٢٦﴾ اِلَّا مَنِ ارْتَضٰى مِنْ رَّسُوْلٍ فَاِنَّهٗ يَسْلُكُ مِنْۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهٖ رَصَدًا ﴿٢٧﴾
لِّيَعْلَمَ اَنْ قَدْ اَبْلَغُوْا رِسٰلٰتِ رَبِّهِمْ وَاَحَاطَ بِمَا لَدَيْهِمْ وَاَحْصٰى كُلَّ شَيْءٍ عَدَدًا ﴿٢٨﴾ ع

خپلو غیبو هیڅ چاته (٢٦) لیکن هغه چه غوره ئے کړی د رسالت دپاره نو یقیناً روان کړی مخے د هغه ته او روستو د هغه نه څوکیداران (٢٧) د دے دپاره چه پوهه شی چه یقیناً رسولی دی دوی پیغامونه د رب خپل او راګیر کړیدی هغه چه د دوی سره دی او شمارلے دے هر څیز په پوره شمارلو سره (٢٨)

صحیح سره ثابت دی چه نبی ﷺ فرمائیلی دی (بعثت انا والساعة کهاتین) یعنی نبی ﷺ سبّحه (مسواکه) اومینځنے ګوتے دواړه یوځائے کړے اوفرمائیل ئے چه قیامت زمابعثت پسے داسے قریب دے لکه چه سبحه ګوته په دنګ والی کښ مینځنے ګوتے ته نزدے ده نونزدیکت خو ورته معلوم وؤ؟ (جواب) مراد په ایت کښ مقدارمعیّنه د قرب دے یعنی مثلاً سل کاله یا زرکاله نودا خو ورته معلوم نه وؤ خوصرف قرب ورته معلوم وؤ لکه په سورة احزاب (٦٣) کښ او سورة شوریٰ (١٧) کښ دی۔

[٢٦] ﴿عَالِمُ الْغَيْبِ فَلَا يُظْهِرُ عَلٰى﴾ پدیکښ نفی د علم غیب ده د ما سِوىٰ اللّٰه نه او اَحَداً نکره په سیاق د نفی کښ ده عام ده پیغمبرانو، اولیاؤ، کاهنان، نجومیانوټولوته ﴿غَيْبِهٖٓ﴾ اضافت دَپاره د تخصیص دے اوغیب د اللّٰه تعالیٰ غیب حقیقی دے یعنی چه د هغے دَحصول دَپاره هیڅ سبب نیشته۔ حواس، عقل او وحی اوبے اسبابوعلم صرف د اللّٰه تعالیٰ دے اودَ مخلوق د علم دَپاره به یودَ دے درے اسبابونه ضرور موجود وی۔

[٢٧] دا پشان د سورة العمران (١٧٩) دے او دا استثناء منقطع ده ځکه چه رسولانوته کوم علم ورکړے شوے دے نوهغه په سبب د وحی سره دے اوهغے ته غیب حقیقی نشی وئیلے کیدے۔ نودَ انبیاء علیهم السلام هغے ته علم غیب نشی وئیلے کیدے دارنګ پوهه د ولی چه په کشف اوالهام سره ده نو هغه هم په سبب سره ده هغے ته علم هم نه وئیلے کیږی ځکه چه علم یقین ته وئیلے شی او کشف اوالهام سره یقین نه حاصلیږی اوغیب ورته هم نه وئیلے کیږی دارنګ دَکاهنانواودَ نجومیانودَ خبرونودَپاره شیطانی اسباب دی اواوصاف اوحرکات د ستورو دی نوداهم علم نه دے ځکه چه علم یقین ته وئیلے کیږی اودا امورظنیه دی اودے ته غیب هم نشی وئیلے کیدلے ځکه هغه د اسبابوپه وجه سره وی۔ نوځوك چه په علم د انبیاء علیهم السلام باندے یا په خبرونو د اولیاء یا کاهنانو نجومیانو باندے د علم غیب اطلاق کوی نو دے د شریعت د اصطلاحاتونه جاهل دے او که دَهغوی علم دَعلم د اللّٰه تعالیٰ سره بالکل مشابه ګڼری اوصرف په ذاتی اوعطائی سره ئے فرق کوی نو دا صریح شرك دے ﴿فَاِنَّهٗ يَسْلُكُ مِنْۢ بَيْنِ﴾ په دے کښ جواب د سوال دے سوال دا دے چه هرکله نبی علم غیب نه لری نو بیا د هغه کمال څه دے؟ اودارنګ د هغه د وحی حفاظت څه رنګ کیدے شی؟ نوپه دے جملے سره جواب اوکړیشوچه کمال ئے دا دے چه اللّٰه تعالیٰ هرنبی لره او د هغه وحی لره حفاظت کوی۔

[٢٨] په دے کښ فائده د حفاظت ذکرکوی ﴿لِيَعْلَمَ اَنْ قَدْ اَبْلَغُوْا﴾ په دے کښ ډیر توجیهات دی اول داچه لیعلم ضمیر نبی ﷺ ته راجع دے اوابلغوا ضمیر رسولانوته راجع دے اودَ دے نه مخکښ عبارت کښ تقدیر دادے (اخبرناه بحفظ الوحی) خبر ورکړو مونږ دے نبی ﷺ ته په حفاظت د وحی سره دَپاره د دے چه یقین

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سُوْرَةُ الْمُزَّمِّلِ مَكِّيَّةٌ (٧٣) | اٰيَاتُهَا ٢٠ رُكُوْعَاتُهَا ٢

(بقیه تفسیر دَ سورة الجن) او کړی۔ دویمه توجیه دا ده چه لیعلم ضمیرنبیﷺ او قد ابلغو ضمیر ملائکوته راجع دے۔ دریمه توجیه دا ده چه ضمیرد لیعلم اللّٰه تعالیٰ ته راجع دے اومرادترینه علم اظهار او تمیز دے اوابلغوضمیر راجع دے ټولو رسولانوته ﴿وَاَحْصٰى كُلَّ شَيْءٍ عَدَدًا﴾ پدیکښ زیات تعمیم دے په نسبت دَاولے جملے سره محکه کل شيءٍ شامل دے ذرّاتو دَ اوچے او دَ دریابونوته اوځاځکو دَبارانونوته او دا صریح دے چه علم دَ اللّٰه تعالیٰ په جمیع ماکان او مایکون باندے ازلاً ابداً دے او دا صفت هیڅ نبی اوبزرګ اوکاهن وغیره لره نیشته۔

سورة المزمل

ربط: دَ دے سورة دَما قبل سره په ډیرو وجوهو دے اوله وجه دا ده چه مخکښ سورتونوکښ تفصیلاً رد وژپه اقساموَ شرك باندے نوپه دے سورة کښ ترغیب دے قرآن لوستلوته دَپاره دَ استقامت په توحید باندے۔ دویمه وجه دا ده چه مخکښ دوه سورتونوکښ دعوت اوطریقے دَ دعوت ذکر شوے نو په دے سورة کښ تیاری کول دَپاره دَ دعوت ذکرکوی ۔

دعویٰ دَ دے سورة: ترغیب دے اهل قرآن ته په قیام اللیل دَپاره دَ قرآن په توکل علی اللّٰه سره، سرهٗ دَ عقیدے دَ توحیدنه اودَترغیب دَپاره ئے شپارس صیغے دَ امرذکرکړی دی اواته کرته تاکیدات په حرف دَ اِنَّ سره اوپه دے ټولوکښ مقصود تیاری کول دی دَپاره دَ دعوت الی القرآن والتوحید اومأخذ دَ دعویٰ په (٢) او (٤)او (٨) کښ دے۔

خلاصه دَ سورة دا ده: ترغیب ورکوی په قیام اللیل باندے په توقیت سره په درے قسمونوسره او ذکر کړے دے مقصد دَقیام په (٤)کښ په ذکردَ درے علتونوسره دَ درے اموروډپاره (قیام په شپه کښ اواستثناء) اوعلتونه په ترتیب سره په (٧،٦،٥)کښ دی۔ بیا ذکرکړے دے ادب دَ قرآن په (٨) اومقصد دَقرآن په (٩)کښ بیا تسلی او تشجیع ده قرآن والو لره په څلور امورو سره چه متعلق دی په مخالفینوپورے په (١١،١٠)کښ۔ بیا تخویف اخروی دے منکرینوته په (١٤،١٣،١٢)کښ اومثال دَ تخویف دنیوی په واقعه دَ فرعون سره ذکرکوی سرهٗ دَ ذکر دَ سبب دَ عذاب نه په (١٦،١٥)کښ (اوپدیکښ تسلی اوتصدیق دَنبیﷺ هم شته دے) بیا تخویف اخروی په (١٨،١٧)کښ دے اوترغیب دے قرآن ته دَپاره دَ نجات دَ عذاب نه په (١٩)کښ بیاپه دویمه رکوع کښ ذکرکوی تخفیف په قراءة دَ شپه کښ چه تحدید لازم نه دے اوسبب دَ تخفیف وجود دَ معذورینو اومجاهدینو اوتاجرانودے په قرآن والو کښ (او دا درے واړه تخفیف ته محتاج دی) بیا پنځه امورئے ذکرکړی دی دَپاره دَ تثبت په ایمان اوعمل بالقرآن باندے په (٢٠)کښ۔

يٰٓاَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ ۙ﴿١﴾ قُمِ الَّيْلَ اِلَّا قَلِيْلًا ۙ﴿٢﴾ نِّصْفَهٗٓ اَوِ انْقُصْ مِنْهُ قَلِيْلًا ۙ﴿٣﴾ اَوْ زِدْ عَلَيْهِ وَرَتِّلِ
الْقُرْاٰنَ تَرْتِيْلًا ۭ﴿٤﴾ اِنَّا سَنُلْقِيْ عَلَيْكَ قَوْلًا ثَقِيْلًا ۭ﴿٥﴾ اِنَّ نَاشِئَةَ الَّيْلِ هِيَ اَشَدُّ وَطْاً وَّاَقْوَمُ قِيْلًا ۭ﴿٦﴾

اے ذمه واره (دَ قرآن اودَ نبوت) (۱) او دریږه دَ شپے مګر لږ (۲) نیمه دَ هغے یا کم کړه دَ هغے نه لږ (۳) یا زیاتی کړه په هغے باندے او صفا لوله قرآن په صفا لوستلو سره (٤) یقیناً رالیږو مونږ په تا باندے وینا درنه (٥) یقیناً پاځیدل دَ شپے دا کلك برابرؤنکے دے دَ زړه او ښه سیدها کوؤنکے دَ وینا دے (٦)

تفسیر

[۱] دا خطاب دے نبیﷺ ته اودا لفظ ماخوذ دے دَ زمل نه چه معنیٰ ئے حمل ده اودویمه معنیٰ ئے انغختل دی په جامه کښ۔ خطاب په دے صفت سره دَ دوه فائِدو دَپاره دے۔ اوله فائِده تعمیم ته اشاره ده یعنی ځوك چه دَ قرآن کریم او دَ سنت داعی دے نودا خطاب هغه ته شامل دے۔ دویمه فائده ئے ملاطفت دے یعنی انسان چه په کارکښ مشغول وی او دَ هغے سره مناسب صفت ورله کیخودلے شی او هغه صفت ئے دلیل دَ رضا او دَ خوشحالئی وی۔

[۲] دَ قیام اللیل نه مراد مونځ دَ تهجد دے په عرف دَ شرع کښ۔ هسے اوریدل یا بیداری مرادنه ده دَ قیام اللیل په نبیﷺ باندے دَ فرض کیدلو اختلاف دے لیکن قرطبی غوره کړیده چه اول وخت کښ فرض وؤ ځکه چه په ابتدا دَ دعوت کښ دَ ډیرمحنت ضرورت وی او روستو بیا تخفیف راغے یعنی فرضیت ئے معاف شو سنتیت(سنت کیدل) ئے باقی پاتے شولکه چه دَ سورة په اخری ایت کښ به راشی﴿اِلَّا قَلِيْلًا﴾ معنیٰ دا ده چه ټوله شپه قیام کوه مګرځه ترینه کم کړه یا دا چه هر شپه قیام کوه مګر کله کله پریږده دَ عذر دَ وجے نه او استثناء دَپاره دَ شفقت ده ځکه چه دَ جسد دَپاره حق دَ استراحت شته دے۔

[٤،۳] په دے کښ اختیار ورکول دی په درے ځیزونو کښ نیمه دَشپے او کم دَنیمے نه یعنی ثلث او زیات دَ نیمے نه یعنی ثلثان په قرینه دَ روستو ایت سره چه په هغے کښ ئے عمل دَ نبیﷺ اودَ صحابه کرامو ذکر کړے دے (اِنَّكَ تَقُوْمُ اَدْنٰى مِنْ ثُلُثَيِ الَّيْلِ وَنِصْفَهٗ وَثُلُثَهٗ)﴿وَرَتِّلِ الْقُرْاٰنَ﴾ په دے کښ ذکردَمقصد دَقیام اللیل دے چه هغه ترتیل دَ قرآن دے ترتیل عبارت دے دَ یوځواوصافونه یودا چه هرحرف په خپل مخرج کښ اداکړی۔ دویم داچه هرحرف په خپل صفت سره اداکړی۔ دریم دا چه په آرام آرم سره ئے ادا کړی په تادئے سره دِ نه وی۔ څلورم تدبردَ معنے ورسره وی۔ پنځم داچه دَ مَدپه ځائے کښ مَدوی اودَ قصرپه ځائے کښ قصر وی۔ شپږم داچه دَ وقف په ځائے کښ وقف وی اودَ دے نه استدلال کړے شویدے په وجوب دَعلم تجوید اوقراءت سره دارنګ دا دلیل دے چه لګ قراءة سرهٔ دَتدبراوترتیل نه افضل دے دَ ډیرقراءة نه په تلوارے سره ځکه چه مقصد دَ قرآن دَ لوستلونه پوهه اوفکرکول دی په معانی کښ۔

[٥] داعلت دے دَ قُم(وجوب قیام) دَپاره یعنی دَ دروند ځیزپورته کولودَپاره قیام (اودریدل) ضروری وی په ناسته اونارستیا باندے کارنه چلیږی﴿ثَقِيْلًا﴾ ثقل په ډیرو وجوهو سره دے اول خوپه نزول کښ چه په سخته یخنئے کښ به په رسول اللّٰهﷺ باندے خولے راتلے دویم په عمل کولوکښ دریم په دعوت کولوکښ ځکه چه په دعوت دَ قرآن کښ قربانی دَ بدن او دَ مال او دَ وخت ضروری ده۔ څلورم دروندوالے

اِنَّ لَكَ فِي النَّهَارِ سَبْحًا طَوِيْلًا ۝۷ وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ وَتَبَتَّلْ اِلَيْهِ تَبْتِيْلًا ۝۸ رَبُّ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ
لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ فَاتَّخِذْهُ وَكِيْلًا ۝۹ وَاصْبِرْ عَلٰى مَا يَقُوْلُوْنَ وَاهْجُرْهُمْ هَجْرًا جَمِيْلًا ۝۱۰ وَذَرْنِيْ

یقیناً ستا دپاره په ورځ کښ شغل اوږد دے (۷) او یا دوه نوم دَ رب ستا او ځان جدا کړه هغه طرف ته دَ هر څه نه ځان جدا کول (۸) رب دَ مشرق دے او دَ مغرب دے نیشته حقدار دَ بندګئے سیوا دَ هغه نه نو اونیسه هغه لره کار جوړونکے (۹) او صبر کوه په هغه خبرو چه دوی ئے وائي او پریږده دوی په پریخودلو خائسته سره (۱۰) او پریږده ما

په اعتبار دَ اکرام او عزت سره۔ پنځم دروندوالے دَ اجر وثواب دے په میزان کښ شپږم دروند دے په منافقانواومشرکانو باندے اُوم دروندوالے ئے په اعتبارد کثرت دَ علومواو احکاموسره دے یوعقل دَ دے ادراك دَپاره نه شی کافی کیدلے شریبنی وئیلی دی چه لفظ ثقیل دے ټولو معانوته شامل دے۔

[٦] دا علت دے دَ اَلْیَل دَپاره یعنی دَ قیام تخصیص په شپه پورے دَ دے وجے نه دے چه فکر اوسوچ بنهٔ برابروی ۔سیوطی دَ جاحظ نه نقل کړے دے چه معانی راویستل دَ قرآن نه دَ شپے په وخت کښ بنهٔ اثرناکے اوپوره موافق وی دَ حق سره په نسبت دَ هغے چه دَ ورځے راویستلے کیږی۔

[۷] دا علت دے دَپاره دَ اِلَّاقَلِیلاً یعنی ټوله شپه قیام دَدے وجے نه نشے کولے چه ستا دَپاره دَ ورځے هم څه ذمه وارئے دی چه دَ هغے اداکول ضروری دی ﴿سَبْحاً﴾ کرځیدلوته وئیلے شی دَپاره دَحاجات دینیه (لکه چه دعوت دے) اوحاجات دنیویه چه تجارت وغیره دے یا سبحاً په معنیٰ دَ فراغ سره دے یعنی که دَ شپے څه کار دَ قیام او قرائت پوره نه کړے شی نو دَ ورځے په څه وخت کښ هغه پوره کړه ﴿طَوِیْلاً﴾ دَ صبا دَ مونځ نه ترماسپخین بیا دَ ماسپخین دَ مونځ نه ترمازیګرپورے دَ مازیګرمونځ نه ترماښام پورے او ګډ وخت دے۔

[۸] په دے کښ دوه اداب دَ دعوت الی القرآن ذکرکوی اول ﴿وَاذْكُرِ﴾ یعنی مدد دَ خپل رب نه غواړه اودارنګ په بسم اللّٰه سره شروع کوه اوهروخت په زړه کښ دَ اللّٰه تعالیٰ ذکرکوه دا دَ داعی دَپاره اول ضروری دی۔دویم ادب ﴿تَبَتَّلْ اِلَيْهِ﴾ دَ بتل نه ماخوذ دے قطع اوپریکولوته وئیلے شی مراد دلته انقطاع ده دَ شرك او ریا اوسمعت نه اواخلاص دَهرعمل دے دَاللّٰه تعالیٰ دَپاره (سوال) په حدیث کښ دَ تبتل نه منع کړے شوے ده؟ (جواب) دغه تبتل دَ نصاریٰ دے یعنی چه دَ مخلوق نه داسے جداشی چه هغوی ته دعوت هم نه کوی او دَ هغوی جماعتونوکښ هم نه حاضریږی اونکاح نه کوی اوتلذذات مباحه (جائز خوندونه) په ځان باندے حرام ګڼړی اودے ته رهبانیت هم وئیلے کیږی نودا تبتل غیردے اودَ قرآن تبتل جدا دے۔

[۹] په دے کښ دریم ادب ذکرکوی او دارنګ مقصد دَ ترتیل قرآن ذکرکوی چه هغه توحید دے په رد دَ شرك فی الربوبیت او فی الالوهیت اوفی الوکالت والتصرف سره ﴿وَكِيْلاً﴾ هغه ذات چه دَ ټولو اسبابو مسبباتو وغیره اختیار او تصرف دَ هغه په لاس کښ دے نوپه هغه باندے په هرکارکښ توکل اوکړئے دا معنیٰ دَ اتخاذ وکیل ده۔ دَاللّٰه تعالیٰ وکالت دَمخلوق دَ وکالت نه ډیرپه فرق سره دے دَ انسانی وکیل اختیاردَ مؤکل دَ طرف نه وی مؤکل چه اوغواړی نواختیارترینه واپس اخستے شی اوانسانی وکیل چه کار اوکړی نواجرت اوعوض غواړی دَ مؤکل مال خرچ کوی اودَ اللّٰه تعالیٰ صفت دَ وکالت دَ دے حالاتونه

وَالْمُكَذِّبِيْنَ اُولِي النَّعْمَةِ وَمَهِّلْهُمْ قَلِيْلًا ﴿١١﴾ اِنَّ لَدَيْنَآ اَنْكَالًا وَّجَحِيْمًا ﴿١٢﴾ وَّطَعَامًا ذَا غُصَّةٍ وَّعَذَابًا
اَلِيْمًا ﴿١٣﴾ يَوْمَ تَرْجُفُ الْاَرْضُ وَالْجِبَالُ وَكَانَتِ الْجِبَالُ كَثِيْبًا مَّهِيْلًا ﴿١٤﴾ اِنَّآ اَرْسَلْنَآ اِلَيْكُمْ

سره دَ تکذیب والو نه چه دَ دُنیا مزو والا دی مهلت ورکړه دوی لره لږ وخت (۱۱) یقیناً زمونږ سره شته بیړئ دَ خپو او اور کرم (۱۲) او خوارك چه مړئ کښ انخلی او عذاب درد ناك (۱۳) په کومه ورځ چه اوبه لړزیږی زمکه او غرونه او شی به غرونه ډیرئ دَ شړے بهیدونکے (۱٤) یقیناً را لیږلے دے مونږ تاسو ته

په عکس سره دے۔

[۱۰] په دے ایت کښ نوردوه اداب دَ دعوت الی القرآن ذکرکوی اول صبرپه مقابله دَسب اوشتم اودَ استهزاء دَ دوی کښ اوپه دعوت باندے کلك پاتے کیدل دویم هجران دَ منکرینو یعنی دَ دوی دَ قرابت او دَ مالدارئے پروا نه کول نودا رنګ دَ دوی دَسب وشتم دَ وجے نه دوی ته دعوت کول نه پریخودل لیکن دَ دوی دَشرك اوبدعاتواوفسق وفجوراجتماعاتواومجالسونه ځان بچ کول ﴿جَمِيْلًا﴾ جمیل (خائسته) هجران هغه دے چه دَ اللّٰه تعالیٰ دَپاره وی دَ خواهش دَ نفس اودَ دنیوی اغراضودَ وجے نه نهٔ وی او دیته بُغض فی اللّٰه وئیلے شی دارنګ په سورة حجر (۸۵) اوسورة مدثر(٥) کښ هم شته۔

[۱۱] په دے کښ بل ادب دے دَ داعی دَپاره اوتسلی ده هغه ته سرهٔ دَ تخویف دَ منکرینونه ﴿ذَرْنِيْ﴾ په دے کښ اشاره ده چه پخپله دَ بدلے اخستو اراده مه کوه دَ اللّٰه تعالیٰ انتقام ته ئے پریږده ﴿اُولِي النَّعْمَةِ﴾ په زور دَنون سره مالدارئے اوفراخئے دَ ژوندته وئیلے شی اوپه زیرَ نون انعام ته وئیلے شی اوپه پیښ دَ نون خوشحالئے ته وئیلے شی ﴿وَمَهِّلْهُمْ قَلِيْلًا﴾ مراد دَ قلیل نه وخت دَ نیټے دَ دوی دے اوژوند دَ دنیا لګ دے اومهلت نه مراد دا دے چه عذاب دَ دوی په تادئے سره مه غواړه دَ دنیادَ نعمتونو اومالونونه به استدراجاً فائدے واخلی تروخت دَ عذاب پورے۔

[۱۲،۱۳] دا تخویف اخروی اوذکردَ هغه عذاب دے چه هغے ته اشاره ده په ذرنی اومهلهم کښ۔ دا ځلور قسمونه دَ عذاب دی په مقابله دَ تنعّم دَ دنیا کښ۔ په دنیا کښ دَ دوی ازادی وه اوپه اخرت کښ انکال دی یعنی په خپوکښ درنے بیړئے پرتے دی چه دَ هغے دَ وجے به حرکت نشی کولے او انکال قِسمونودَ عذاب ته هم وئیلے شی۔ او په دنیا کښ اسباب دَ یخ والی وؤ اوپه اخرت کښ به جحیم (ډیرګرم اور) وی اوپه دنیاکښ پاکیزه اونرم اوخائسته خواړهٔ خوراکونه، اوپه اخرت کښ داسے خوراکونه چه په مړئ کښ به انخلی سپور، ګرم، تریخ، سخت اوګنده چه هغه غِسلین، زقوم، ضریع وغیره به وی۔ اوپه دنیا کښ فراخه اودَ خوشحالئے اودَ نعمتونو ژوند وؤ اوپه اخرت کښ به عذابونه تکلیفونه وی چه زړونوته دردونه ورکوی۔

[۱٤] دا متعلق دے په لَدَيْنَآ پورے او اشاره ده رد کولوته په عقیده باطله دَ مکذبینو باندے دوی عقیده لرله چه زمکه ډیره غټه ده اوغرونه ډیرسخت دی نومعلومه شوه چه په دے کښ تبدیلی نه کیږی نواللّٰه تعالیٰ دَ دے دواړوحال ذکرکوی ﴿تَرْجُفُ﴾ داسے خوځیدل چه ټول اجزاء خوځیږی او بیا نه اودریږی لکه چه په سورة النازعات (٦) کښ دی﴿كَثِيْبًا مَّهِيْلًا﴾ کثیب دَ شګو ډیرئے ته وئیلے شی۔ (مَهِيْلًا) داسے

رَسُوْلًا ۝ شَاهِدًا عَلَيْكُمْ كَمَآ اَرْسَلْنَآ اِلٰى فِرْعَوْنَ رَسُوْلًا ۝١٥ فَعَصٰى فِرْعَوْنُ الرَّسُوْلَ فَاَخَذْنٰهُ اَخْذًا
وَّبِيْلًا ۝١٦ فَكَيْفَ تَتَّقُوْنَ اِنْ كَفَرْتُمْ يَوْمًا يَّجْعَلُ الْوِلْدَانَ شِيْبًا ۝١٧ السَّمَآءُ مُنْفَطِرٌ بِهٖ ؕ كَانَ
وَعْدُهٗ مَفْعُوْلًا ۝١٨ اِنَّ هٰذِهٖ تَذْكِرَةٌ ۚ فَمَنْ شَآءَ اتَّخَذَ اِلٰى رَبِّهٖ سَبِيْلًا ۝١٩ اِنَّ رَبَّكَ يَعْلَمُ اَنَّكَ
تَقُوْمُ اَدْنٰى مِنْ ثُلُثَيِ الَّيْلِ وَنِصْفَهٗ وَثُلُثَهٗ وَطَآئِفَةٌ مِّنَ الَّذِيْنَ مَعَكَ ؕ وَاللّٰهُ يُقَدِّرُ الَّيْلَ

رسول، بیانوؤنکے تاسو ته لکه چه لیږلے وؤ مونږفرعون ته رسول (۱۵) نو نافرمانی اوکړه فرعون دَ هغه رسول نو اونیو مونږ دے په سختو نیولو سره (۱۶) نو څنګه به بچ شئے تاسو که چرے کفر (انکار) کوئے دَ هغے ورځ نه چه اوبه ګرځی (شی به) بچی بوډاګان (۱۷) اسمان به اوشلیږی په دغه ورځ دا ده وعده پوره کیدونکے (۱۸) یقیناً دا (سورت) نصیحت دے نو څوك چه غواړی او دِ نیسی خپل رب ته لار (۱۹) یقیناً رب ستا پوهیږی چه ته اودریږے کم دَ دوه حصّو دَ شپے نه او نیمه او دریمه او یوه ډله دَ هغه کسانونه چه تا سره دی (ملګری ستا) او اللّٰه تعالیٰ پوره اندازه کوی شپه

نرئے نرئے شکے چه دَ خپو دَ لاندے نه تختی نوانسان پکښ مزل نشی کولے۔

[۱۵،۱۶] دا تخویف دنیوی دے او بیان دَ هغه عذاب دے چه په مهلهم کښ هغے ته اشاره وه۔ دَ دے صفت مصداق یا په دنیاکښ دے یا په اخرت کښ که په دنیا کښ وی نومراد دَ شهادت نه تبلیغ اوبیان دَ حق دے اوصله دَ علی دَپاره دَ الزام حجت ده په خلقوباندے یعنی دا رسولﷺ تاسوته حق بیانوی چه په تاسوباندے حجت قائم شی اوهرچه په اخرت کښ دے نومراد دَ شهادت نه ګواهی کول دی په انکاردَمنکرینواوتزکیه کول دَمؤمنانولیکن داګواهی خاص ده په حاضرینوپورے په دلیل دَسورة مائده (۱۱۷)سره چه په باره دَعیسیٰؑ کښ ده اوپه حدیث دَ بخاری کښ دغه شهادت زمونږدَ نبیﷺ په باره کښ هم ذکردے ﴿اِلٰى فِرْعَوْنَ رَسُوْلًا﴾دَفرعون اوموسیٰؑ مثال ئے دَ دے وجے ذکرکړوچه مکے والاپه دغه وخت کښ دَیهودوپه واسطه سره دَموسیٰؑدَ صدق اودَ فرعون دَ هلاکت نه پوره خبروؤدَ نورو قومونودَ واقعاتونه بیا روستوخبرشول ﴿وَبِيْلًا﴾ مراد دَ دے نه هغه ټول عذابونه وؤچه په فرعونیانوباندے راغلی وؤطوفان، جراد، قمل، ضفادع اووینه اواخری غرقیدل۔

[۱۷،۱۸] په دے کښ سخت زجردے سرهٔ دَ تخویف اخروی نه اوتفریع ده په عذاب دَ فرعون باندے۔ ﴿فَكَيْفَ﴾ استفهام انکاری دے یعنی په هیڅ طریقے سره تاسو نشئے بچ کیدلے ﴿يَجْعَلُ الْوِلْدَانَ﴾ دَ دے جملے په مقصد کښ درے احتمالونه دی اول داچه دَ ډیرهیبت دَ وجے نه به اول دَ بچو ویخته سپین شی اوکمزوری به شی حقیقةً بیا به ئے اللّٰه تعالیٰ خپل خپل حالت ته واپس اوګرځوی دویم احتمال دا دے چه داپه طریقه دَ مثال سره دے دَپاره دَ ډیر هیبت دَ هغه ورځے یعنی بالفرض که په هغه وخت کښ بچی وی اوهیبت وربانده راشی نو بوډاګان به شی دریم احتمال دا دے چه دا اشاره ده په طریقه دَ مثال سره اوګډوالی دَ هغه ورځے ته۔

[۱۹] دا ترغیب دے قرآن ته او مضمون دَ دے سورة ته ځکه چه هٰذِهٖ اشاره ده ټولو ایاتونو دَ قرآن ته یا اشاره ده دے سورة ته ﴿اِلٰى رَبِّهٖ﴾ رضا دَرب ته، قربت دَ هغه ته، توحید دَ هغه ته ټولے معانے مراد کیدیشی۔

وَ النَّهَارَ ؕ عَلِمَ اَنْ لَّنْ تُحْصُوْهُ فَتَابَ عَلَيْكُمْ فَاقْرَءُوْا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْاٰنِ ؕ عَلِمَ اَنْ سَيَكُوْنُ
مِنْكُمْ مَّرْضٰى ۙ وَاٰخَرُوْنَ يَضْرِبُوْنَ فِي الْاَرْضِ يَبْتَغُوْنَ مِنْ فَضْلِ اللّٰهِ ۙ وَاٰخَرُوْنَ يُقَاتِلُوْنَ فِيْ
سَبِيْلِ اللّٰهِ ۟ فَاقْرَءُوْا مَا تَيَسَّرَ مِنْهُ ۙ وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَ اٰتُوا الزَّكٰوةَ وَاَقْرِضُوا اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا ؕ
وَمَا تُقَدِّمُوْا لِاَنْفُسِكُمْ مِّنْ خَيْرٍ تَجِدُوْهُ عِنْدَ اللّٰهِ هُوَ خَيْرًا وَّاَعْظَمَ اَجْرًا ؕ وَاسْتَغْفِرُوا اللّٰهَ ؕ
اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٢٠﴾ ع

او ورځ پوهه دے چه تاسو هیڅرے نه شئے پوره کولے دا اندازه نو اسانتیا ئے راوستله په تاسو باندے پس لولئ هغه چه اسان دی دَ قرآن نه پوهه دے چه خامخا وی به ستاسو نه بعضِ نا جوړه او نور کسان به سفر کوی په زمکه کښ لټوی به دَ فضل دَ اللّٰه تعالیٰ نه او نور کسان چه جنګ به کوی په لار دَ اللّٰه تعالیٰ کښ نو لولئے هغه چه اسان دی دَ دینه او پابندی کوئے دَ مونځ او ورکوئے زکوٰة او قرض ورکړئے اللّٰه تعالیٰ ته قرض په اخلاص او هغه چه مخکښ لیږئے تاسو دَ خپلو ځانونو دپاره څه نیك عمل نو اوبه مومئ تاسو (ثواب) دَ هغے دَ اللّٰه تعالیٰ سره غوره او ډیر لوئے اجر او بخنه غواړئے دَ اللّٰه نه یقیناً اللّٰه تعالیٰ بخنه کوؤنکے رحم کوؤنکے دے (۲۰)

[۲۰] په ابتداء دَ سورة کښ دَ قیام اللیل سره نصف اوپه هغے باندے زیات اوکم ذکرشویوؤ او نبی ﷺ او صحابه کرامو په هغے باندے عمل کړے وؤ لیکن هرکله چه په دے کښ ډیرمشقت وؤ یو دَ دے وجے نه چه انسان اوده شی نو دَ شپے حقیقی نصف اوثلث وغیره باندے نه پوهیږی ـ بل دا چه انسانانو کښ مریضان مسافران هم شته چه هغوی هم دَ دغه مقدار پوره رعایت نشی کولے نو اللّٰه تعالیٰ په دے ایت کښ تخفیف را اولیږلو ـ یعنی پوره نصف او ثلث دَ شپے پوره کول ضروری نه دی بلکه هر انسان دِ دَ خپل استطاعت مطابق قرآن لولی او قیام دِ کوی ﴿وَطَآئِفَةٌ مِّنَ الَّذِيْنَ مَعَكَ﴾ یعنی صحابه کراموهم قیام کوؤځان ځان له په خپلو کورونو یا مسجدکښ او دوه یا درے شپے په رمضان کښ دَ نبی ﷺ سره ئے جماعت هم په قیام اللیل کښ کړے وؤ ﴿وَاللّٰهُ يُقَدِّرُ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ﴾ دَ دے دوه توجیه دی اول داچه اللّٰه تعالیٰ حقیقی مقادیر دَ شپے او ورځ یقیناً پیژنی چه دا نصف دے اودا ثلث دے اوانسانان ئے په اجتهاد سره پیژنی نوپه هغے کښ دَخطائے احتمال وی ـ دویمه توجیه دا ده چه اللّٰه تعالیٰ په شپه اوپه ورځ کښ دَ مختلفوځیزونو تقدیر کوی چه یو دَ هغے نه قیام اللیل دے په تحدید معین سره او بیا په هغے کښ تخفیف کول دی ﴿فَاقْرَءُوْا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْاٰنِ﴾ مراد دَ دے نه صلوٰة دے په ذکر دَ جزء او مراد ترینه کل دے او صرف قرآن لوستل په مونځ کښ او بهرَ مونځ نه هم مراد اخستل صحیح دی او مَا تَيَسَّرَ، په اعتبار دَ اوقاتو سره دی یعنی یوګهنټه وی او که دوه ګهنټے وی او که نصف وی او که کم وی یا زیات وی څومره چه انسان ته اسانه وی په اعتبارَ طاقت دَ هغه سره یا مراد دَ دے نه فاتحه ده په سبب دَ تخصیص دَ هغے په حدیث صحیح دَ عباده بن صامت ﷺ کښ چه لاصلوٰة لمن لم یقرء بفاتحة الکتاب ﴿عَلِمَ اَنْ سَيَكُوْنُ﴾ هرکله چه تخفیف دَپاره دوه علتونه وؤ لکه چه مونږ دَ ایت په اول کښ ذکر کړل یوعلت ئے په ان لن تحصوه سره ذکرکړونو اوس بل علت ذکرکوی ﴿وَاٰخَرُوْنَ﴾ سفرکول

سُوْرَةُ الْمُدَّثِّر (۷۴ مَكِّيَّةٌ) بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ اٰيَاتُهَا ۵۶ رُكُوْعَاتُهَا ۲

(بقیه تفسیر دَ سورة المزمل) دَپاره دَ تجارت هم طاعت دے لیکن دَ هغے سره دَ قیام اللیل او دَ هغے تحدید طاقت نشی لرلے ﴿وَاٰخَرُوْنَ يُقَاتِلُوْنَ﴾ ابن کثیروئیلی دی چه دَ نزول دَ دے آیت په وخت کښ قتال فی سبیل اللّٰه نه وؤ نو معلومه شوه چه دَ دے ذکر مخکښ دَ وجود دَ دے نه لوئے نښه ده دَپاره دَ صدق دَ نبی ﷺ اومقاتل فی سبیل اللّٰه هم دَ قیام اللیل اودَ هغے تحدید پوره طاقت نشی لرلے دَ دے وجے نه تخفیف دَپاره ئے اوفرمائیل ﴿فَاقْرَءُوْا مَا تَيَسَّرَ مِنْهُ﴾ دلته مراد دَ ما تیسرنه مقدار دَ آیاتونو اوسورتونولوستلودے یعنی یوسورت دوه سورتونه یا یوپاره دوه پارے دِے دَخپل طاقت مناسب سره اولولی دَ دے فرق نه معلومه شوه چه دَ فَاقْرَئُوْا په دواړه جملوکښ تکرار نیشته ﴿وَاَقْرِضُوا اللّٰهَ﴾ مراد دَ دے نه مال ورکول په مصارفودَ خیرکښ دی دَ حلال مال نه په اخلاص سره بغیر دَ من او اذی نه اوغټ فرد دَ دے انفاق دے په دعوت اوجهاد فی سبیل اللّٰه کښ ﴿وَاسْتَغْفِرُوا اللّٰهَ﴾ هرکله چه په ټولو اوامرو الٰهیو باندے پوره پوره عمل کول موافق دَ شان دَ الوهیت دَ اللّٰه تعالیٰ سره کران کار دے نو دَ دے وجے نه په اختتام کښ اقرار دَ خپلے کوتاهئے پکار دے او دا مراد دے په استغفار سره دا مستلزم دَ گناه نه دے لکه استغفار درے کرته روستو دَ فراغ دَ مونځ نه۔

سورة المدثر

ربط: دَ دے سورة دَ سورة مزمل سره په ډیروطریقو سره دے یوه طریقه دا ده چه په مخکښ سورة کښ امروو په قراءة دَ قرآن سره په اوقاتو دَ شپے کښ دَ پاره دَ تضرع الی اللّٰه اودَپاره دَ علم دَ قرآن نو په دے سورة کښ امردے په بیانولو دَ قرآن سره یعنی دَ شپے علم او دَ ورځے عمل دے۔

دعویٰ دَ دے سورة: تیزی ورکول اوحکم کول دی په قرآن رسولوسره دَپاره دَ اظهار دَ کبریاء دَ اللّٰه تعالیٰ په بیان دَ توحید سره او ماخذ دَ دعوے دے په (۳،۲) کښ او ورسره اداب دَ دعوت ئے ذکرکړی دی۔ اودَ معرفت دَ اللّٰه تعالیٰ دَپاره څلور اسماء وصفات ئے ذکرکړی دی اللّٰه، رب، اهل التقویٰ، اهل المغفرة۔

خلاصه دَ دے سورة دا ده: اول ئے ذکرکړے ده تشجیع په دعوت باندے سرهٔ دَ ادابودَ هغے نه اوهغه شپږ اوامراو یونهی ده تر(۷) پورے بیا تخویف اخروی دے په درے آیاتونوکښ بیا مختصر تسلی ده او زجردے مکذب ته په ذکر دَ شپږ صفتونودَ هغه اولس حالات دَ هغه په وخت دَ اوریدلودَ قرآن کښ تر(۲۵) پورے بیا تخویف اخروی دے په ذکر دَ شپږحالاتودَ سقرسره تر(۳۰) پورے بیا جواب دَ یوشبهے په ذکرد مصداق دَ عدد او فائدے دَ هغے دی په (۳۱) کښ بیا شواهد ذکردی په صدق دَقرآن اوپه عظمت دَ سقرباندے تر(۳۷) پورے بیا ذکرد فریقینودے په بشارت اوتخویف سرهٔ دَ اسبابودَ عذاب نه تر(۴۷) پورے سرهٔ دَ نفی دَ شفاعت نه تخویفاً په (۴۸) کښ بیا زجر دے منکرینوته په ذکرد شپږحالاتو دَ هغوی تر (۵۳) پورے اوپه اخرکښ ترغیب الی القرآن دے تر(۵۶) پورے۔

يٰٓاَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ ۙ﴿۱﴾ قُمْ فَاَنْذِرْ ۙ﴿۲﴾ وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ ۙ﴿۳﴾ وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ ۙ﴿۴﴾ وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ ۙ﴿۵﴾ وَلَا تَمْنُنْ

اے ځان په کمبل کښ انغښتونکیه (۱) او دیره نو ویره ورکړه (۲) او خاص دَ رب خپل لوئي وایه (۳) او جامے خپلے پاکے ساته (٤) او دَ هرے پلیتئی نه ډډه اوکړه (۵) اومه اچوه احسان

تفسیر

[۱] ﴿يٰٓاَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ﴾ حدیث دَ صحیحین کښ دَجابرﷺ په روایت سره صریح معلومیږی چه دا سورة دَ سورة علق نه روستونازل شویدے نوپه کومو روایتونو کښ چه راغلے ده چه دا اول سورة دے په نزول کښ نومراد دَ هغے نه اولیت اضافی دے یعنی دَسورة علق دَ نزول نه روستوډیره زمانه پورے نزول دَ وحی بند وؤ روستو دا سورة نازل شونو دا اول دے روستودَ فترت دَ وحی نه او داسے قول دَ امام احمدؒ نه ابن کثیر نقل کړیدے او حدیث دَ بخاری کښ راغلی دی چه نبیﷺ جبرئیلؑ لره په یوتخت باندے په هواکښ او لیدلونودَ رعب دَ وجے نه په هغه باندے سخته لرزه راغله نوخدیجه رضی اللّٰه عنها له راغے اوئیل ئے دَثِّرُوْنِیْ دَثِّرُوْنِیْ وَصُبُّوْا عَلَیَّ مَاءً بَارِدًا، اوپه بل روایت کښ زَمِّلُوْنِیْ راغلے دے (لیکن مطلب دَدواړو یو دے شاید چه دا روایت بالمعنیٰ دے) نو خطاب په المدثر سره خطاب دے په اعتبار دَ صفتِ موجوده سره دَپاره دَ ملاطفت ﴿الْمُدَّثِّرُ﴾ یعنی اے ارام کوؤنکیه دا وخت ندے دَ ارام بلکه دا وخت دے دَ قیام اوپه دے سره هغه اعتراض دفع شوچه یخے اوبو اچولو اوګرمه کړه اغوستلوکښ منافات دے حاصل جواب دا دے چه کپړه اغوستل صرف دَپاره دَ استراحت دی ده یا هرکله چه یخے اوبه ئے واچولے نو یخ شونو روستو دَ یخیدلونه بیائے کپړه واغوستله۔ نو وحی راغله یٰٓاَیها المدثر آه۔

[۲] ﴿قُمْ﴾ مراد دَ دے نه دَ خوب او دَ ارام نه بیداریدل او تیاری کول اوکار شروع کول دی صرف دَ خپو اودریدل مراد نه دی ﴿فَاَنْذِرْ﴾ دا مقصد دَ قیام دے یعنی قیام اوکړه دَپاره دَ انذاراوانذارتخویف دے سرهٔ دَ اعلام نه یعنی مسئله دَ توحید ورته داسے بیان کړه چه دَ دے په نه منلوسره لوئے عذاب راتلونکے دے۔

[۳] په دے کښ تفسیر دَ انذار دے چه هغه توحید دے په بیان دَ کبریاء دَ اللّٰه تعالیٰ سره او قرطبی وئیلی دی چه مراد په دے سره پاکی دَ اللّٰه تعالیٰ ده دَ شرك او دَ تشبیه نه اودَ ولد اوصاحبه نه دَ هغه نه سیوا بل ولی مه نیسه بل معبودمه جوړوه دَ بل چافعل (اختیارکلی) مه منه دَ بل چا نعمت او احسان مه منه۔

[٤] دا ادب دَ دعوت دے اوپه دیکښ ډیراقوال دی دَ مفسرینو اوله معنیٰ دا ده چه جامے خپلے دَ نجاساتونه پاکے ساته ځکه داعی خو مونځ ضرورکوی او دَ هغے دَپاره طهارت دَ جامے فرض دے لیکن په عامو اوقاتوکښ هم دَ مؤمن دَپاره پاکے جامے پکار دی۔ دویم داچه عمل خپل پاك ساته دَ شرك او ریاء او سمعت نه۔ دویمه توجیه دا ده چه خپله ذمه پاکه کړه او خپله غاړه خَلاصه کړه په دعوت اوتبلیغ سره۔ دریمه توجیه دا ده چه خپل نفس لره دَ قبیح اخلاقونه پاك کړه، ځلورمه دا ده چه خپل زړه دَ توجّه دَ غیر اللّٰه نه پاك کړه۔ دریمه معنیٰ دا ده چه جامے خپلے دَ غیر شرعی طریقے نه پاکے ساته یعنی دَ حرام مال نه جامے مه جوړوه دارنګ دَ ریښمو جامے مه استعمالوه دارنګ جامه دَ ګیټونه مه کوزوه که لنګ وی یا پرتوګ قمیص وغیره وی (دَ دے نه په احادیثوکښ صریح منع کړے شویده) ځلورمه معنیٰ دا چه دین خپل لره پاك

تَسْتَكْثِرُ ۝٦ وَلِرَبِّكَ فَاصْبِرْ ۝٧ فَإِذَا نُقِرَ فِي النَّاقُورِ ۝٨ فَذَٰلِكَ يَوْمَئِذٍ يَوْمٌ عَسِيرٌ ۝٩ عَلَى الْكَافِرِينَ غَيْرُ يَسِيرٍ ۝١٠ ذَرْنِي وَمَنْ خَلَقْتُ وَحِيدًا ۝١١ وَجَعَلْتُ لَهُ مَالًا مَّمْدُودًا ۝١٢ وَبَنِينَ شُهُودًا ۝١٣ وَمَهَّدتُّ

چه ډیر کار ګنړے (٦) او خاص دَ رب خپل دپاره صبر کوه (٧) پس کله چه پوکے اوکړے شی په شپیلئی کښ (٨) نو دا په دغه ورځ، ورځ سخته ده (٩) په کافرانو باندے نه ده اسانیدونکے (١٠) پریږده ما او هغه څوك چه پیدا کړیدی ما یوائے (١١) او ورکړیدی ما هغه لره مالونه خواره واره (١٢) او ځامن په ځائے حاضر (١٣) او تیار کړیدی ما

ساته دَ شرك او بدعاتو وغیره نه حاصل دا دے چه دا الفاظ دَ دے ټولو معانیو احتمال لری او پدے معانیو کښ هیڅ منافات نیشته نوټولوته شامل دی۔

[٥] دا بل ادب دے ﴿وَالرُّجْزَ﴾ په معنٰی دَ اصنامودے نومراد ترینه عبادت دَ هغوی دے یا رجز په معنیٰ دَ شرك دے یا په معنیٰ دَ ګناه سره دے یا په معنیٰ دَ عذاب دے په حذف دَ مضاف سره یعنی الرجز نومعنیٰ دا چه دَ اسبابو دَ عذاب نه ځان بچ ساته یا مراد دَ دے نه اهل الرجز دی لکه چه سورۃ مزمل (١٠) کښ دَ هغوی په هجران باندے امر شویدے او دے ته براء وئیلے شی نو په ایمان کښ ولاء اوبراء په شرعی طور سره ضروری ده او اشاره ده چه داعی له پکار ده چه هرقسم ناکاره ملګرو او ناکاره مجلسونو او اسباب دَ معصیت نه ځان بچ اوساتی۔

[٦] دا بل ادب دے دَدے جملے په تفسیرکښ قرطبی یؤلس اقوال ذکرکړیدی۔ بعضِ معانے داسے دی (١) احسان مه کوه په اللّٰه تعالیٰ باندے په دعوت کولو سره په داسے حال کښ چه ته ئیے ډیرګنړے، یعنی داعی دَ حق دِ په اللّٰه تعالیٰ باندے زیاتے نه کوی او داسے دِ هم نه وائی چه ما ډیرکارکړے دے نوربس دے۔ (٢) احسان مه کوه په مخلوق باندے دَ دعوت کولوډ دے دَپاره چه ډیرمال اوعزت طلب کوے (٣) هیڅ ځیز چالره په دے اراده مه ورکوه چه دَ هغه نه عوض کښ ډیرغواړے (٤) کمزوری مه کوه دَکاردَ دعوت نه په دے وجے سره چه ډیرئیے ګنړے (٥) مه بس کوه کار دَ دعوت لره په دے وجے سره چه ډیر ئیے ګنړے ۔ اوسین په تستکثرکښ دَپاره دَ طلب دے یا دَپاره دَ شمارلواو وجدان دے لکه چه دَ دغه معانونه ثابته شوه۔

[٧] دا بل ادب دے او ﴿لِرَبِّكَ﴾ ئیے مخکښ ذکرکړے دے دپاره دَاخلاص اوصبرعام دے که په طاعاتو کولو سره وی یا په مصیبتونو باندے وی۔

[٨،٩،١٠] دا تخویف اخروی دے مناسبت ئیے مخکښ سره دادے چه انذار دَ خلقو ضروری دے دَپاره دَ دے چه دَ قیامت دَ عُسر(سختئی) نه بچ شی﴿عَلَى الْكَافِرِينَ﴾ دا دلالت کوی چه په مؤمنانوباندے اسانه ده﴿غَيْرُ يَسِيرٍ﴾په دے قیدلګولو کښ کښ یوفائِده دا ده چه بعضِ ځیزپه یو وجے سره سخت وی لیکن په بلے وجے سره اسان وی نو په دے قید سره ئیے دا وهم دفع کړوچه هغه ورځ په هره وجے سره په کافرانو باندے سخته ده۔ دویمه فائِده دا ده چه سختی دَ هغه ورځے په مؤمنانوباندے شته لکه چه بعضِ نصوصونه ثابت ده لیکن دَ هغوی سختی به بیا بدله شی په اسانتیا سره اودَکافرانوسختی نه بدلیږی په یُسرسره۔ دریمه فائِده دا ده چه په دے کښ اثبات دَ یوځیز اونفی دَ ضد دَ هغے ئیے کړے ده دَپاره دَ تاکید دَ سختئی دَ هغه ورځے۔

لَهٗ تَمْهِيْدًا ﴿١٣﴾ ثُمَّ يَطْمَعُ اَنْ اَزِيْدَ ﴿١٥﴾ كَلَّا ؕ اِنَّهٗ كَانَ لِاٰيٰتِنَا عَنِيْدًا ﴿١٦﴾ سَاُرْهِقُهٗ صَعُوْدًا ﴿١٧﴾ اِنَّهٗ
فَكَّرَ وَقَدَّرَ ﴿١٨﴾ فَقُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ ﴿١٩﴾ ثُمَّ قُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ ﴿٢٠﴾ ثُمَّ نَظَرَ ﴿٢١﴾ ثُمَّ عَبَسَ وَبَسَرَ ﴿٢٢﴾ ثُمَّ اَدْبَرَ

هغه لره سامانونه تیار (١٤) بیا دے طمع کوی چه زیاتی ورکړم (١٥) هیڅرے نشی کیدے یقیناً دے زمونږ دَ ایاتونو سره عناد کوؤنکے دے (١٦) نو ضرور به اوخیژوم دهٗ لره په لویه چړهائے باندے (١٧) یقیناً دهٗ سوچ اوکړو او اندازه ئے اولګوله (١٨) نو پس تباه دے شی څه رنګه اندازه ئے اولګوله (١٩) بیا دے تباه شی چه څه رنګه اندازه ئے اولګوله (٢٠) بیا ئے اوکتل (٢١) بیا ئے تندے تریو کړو او رنګ ئے بدل شو (٢٢) بیا ئے شا اوګرځوله

[١١،١٢،١٣،١٤،١٥] دا ایاتونه اګرچه په باره دَ ولیدبن مغیره کښ نازل شویدی لکه چه ابن جریراوابن کثیر ذکرکړیدی لیکن اعتبار عموم دَ دے صفتونوته دے یعنی دا راتلونکے ذکرکړے شوی نعمتونه چه په یوانسان باندے شویوی اوپه دے صفتونو سره موصوف وی لیکن دَاللّٰه تعالیٰ دَکتاب سره دُشمنی اوعنادکوی نودا ایاتونه هرهغه شخص ته شامل دی﴿مَالاً مَّمْدُوْدًا﴾ مال دِپرِپه وسعت سره چه فائده ئے جاری وی اوهغه اوښان، اسونه،نورځاروی، مریان، وینځے اوباغونه اونقدمالونه دے ټولوته شامل دے ﴿وَبَنِيْنَ شُهُوْدًا﴾ حاضروؤ دَپلارسره په هرمجلس اوجرګه کښ یعنی دَ سفرکولودَ تجارتونو دَپاره حاجت نه لری﴿وَمَهَّدْتُّ لَهٗ تَمْهِيْدًا﴾ تَمهیداً په نیزدَ عربو تیارول دَ سامان دی دَپاره دَ ارام اوسانتیا یعنی دَ ژوند دَ وسعت او اسانتیا دَپاره ئے دهٗ لره دِپراسباب اوسامان ورکړیدے اودا دِپرونعمتونواودَ مال قسمونوته اشاره ده ﴿اَنْ اَزِيْدَ﴾ په دنیاکښ نور نعمتونه ورکول یا په اخرت کښ جنت ورکول په زعم دَ هغه سره۔

[١٦] ﴿عَنِيْدًا﴾ یعنی عنادکول دَ هغه کسب اوعادت ګرځیدلے دے اوعناد کوی دَ توحید سره او دَ رسالت سره او دَ قرآن سره اودَ خبرِدَ بعث سره، دَ هریوحقے خبرے سره عناد کوؤنکے دے، اوسرهٗ دَ علم نه انکار کوؤنکے دے۔

[١٧] دا تخویف دے دغه عنادی ته ﴿صَعُوْدًا﴾ مشقت دَ داسے عذاب چه هیڅ راحت به ورسره نه وی اوپه حدیث دَ احمد اوترمذی کښ راغلی دی چه دانوم دَ یوغردے چه اویاکاله به هغے ته ورخیژی او بیا به ئے دغه شان خکته راغورځوی لیکن دا حدیث منکر اوغریب دے (ابن کثیرِدَ غسے فرمائیلی دی)۔

[١٨،١٩،٢٠] دا تفسیرِدَ عناد دے چه په عنیداً کښ ذکرشو اولس احوال دی دَ تکذیب کوؤنکی دَ رسول اوقرآن دپاره په زجر ورکولوسره ﴿فَكَّرَ﴾ مراد دا چه هرکله دَ دهٗ نه دَ قرآن اونبی په باره کښ تپوس اوکړیشونودهٗ په هغے باندے دَ طعن دَپاره سوچونه اوکړل﴿وَقَدَّرَ﴾ یعنی دَ طعن کولو دپاره ئے په زړه کښ څه منصوبه جوړه کړله ﴿فَقُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ﴾ دا په طریقه دَ دعا دَ شرده اودَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه په واقع کښ موجود ده اومراد دَ دے نه اهلاك اولعنت کول دی ﴿ثُمَّ قُتِلَ﴾ په دے کښ تکراراوکثرت دَ لعنت ته اشاره ده یا اول اشاره ده لعنت اواهلاك دَ دنیا ته او دویم اشاره ده اهلاك دَ برزخ ته او قدرئے دوه کرته ذکرکړوځکه چه دَ طعن کولو دپاره ئے دوه قسمه کلمات جوړ کړی دی یوسحراوبل قول البشر چه ورپسے ئے ذکر کړی دی۔

وَاسْتَكْبَرَ ﴿۲۳﴾ فَقَالَ اِنْ هٰذَآ اِلَّا سِحْرٌ يُّؤْثَرُ ﴿۲۴﴾ اِنْ هٰذَآ اِلَّا قَوْلُ الْبَشَرِ ﴿۲۵﴾ سَاُصْلِيْهِ سَقَرَ ﴿۲۶﴾ وَمَآ
اَدْرٰىكَ مَا سَقَرُ ﴿۲۷﴾ لَا تُبْقِيْ وَلَا تَذَرُ ﴿۲۸﴾ لَوَّاحَةٌ لِّلْبَشَرِ ﴿۲۹﴾ عَلَيْهَا تِسْعَةَ عَشَرَ ﴿۳۰﴾ وَمَا جَعَلْنَآ اَصْحٰبَ

او لوئی اوکړه (۲۳) نو اُوئیل ئیے نه دے دا مګر جادو دے نقل کړے شوے (۲۴) نه دے دا مګر وینا ده دَ بنده (۲۵) زر دے چه داخل به کړم دے اور ته (۲۶) او څه پته ده تاته چه څه دے سقر (اور) (۲۷) نه پریږدی باقی دَ دوی نه هیڅوك اونه پریږدی دَ بدن نه څه ځیز (۲۸) سو ځوؤنکے دے دَ ځرمنے (۲۹) په هغے باندے مقرر دی نورلس (۳۰) او نه دی مقرر کړی مونږ ساتونکی

[۲۳،۲۲،۲۱] په ﴿ثُمَّ نَظَرَ﴾ کښ اشاره ده چه په وخت دَفِکرکولو کښ ئیے سترګے پټے کړے وے یا ئیے لاندے نظرکوؤنوروستو دَ فکرنه ئیے سترګے اوغړولے اوخلقوته ئیے اوکتل ﴿عَبَسَ﴾ هرکله چه انسان په یوځیزکښ فکرکوی اوپوره نتیجے ته اونه رسیږی نوزړه ئیے تنګ اوتندے ئیے تریوشی دَسترګوپه مینځ کښ ئیے په تندی باندے چونړونه پیداشی دیته عبس وئیلے شی او عبس په اصل کښ هغه پچے اوغوشیان وی چه په لکئے دَځاروی پورے اوچ شویوی ﴿وَبَسَرَ﴾ دَتندی دَ چونړکولونه روستو په مخ باندے دَ خفګان اثر راشی مخ ئیے خړشی اوبدل شی دے ته بسور وئیلے کیږی﴿ثُمَّ اَدْبَرَ وَاسْتَكْبَرَ﴾په دے ثم کښ اشاره ده چه دَ طعن کولو دپاره ورته هیڅ ثبوت ملاؤ نشو اوتنګ شو نوپکار دا وه چه تصدیق ئیے کړے وے لیکن دَ عناد دَ وجے نه شائیے اوګرځوله یعنی تکذیب ئیے اوکړو او دا دَ جهل دَ وجے نه نه وؤ بلکه وَاسْتَكْبَرَ، دَ تکبر دَ وجے نه وؤ او استکبارسپك کنټرل دَ حق دَ خبرے او دَحق پرست او دَ حق نه په ضد سره انکارکولوته وئیلے شی لکه چه په حدیث کښ راغلی دی۔

[۲۵،۲۴] په دے کښ تفصیل دَ قدّر دے چه دوه کرته ذکروؤ﴿اِنْ هٰذَآ﴾ په طریقه دَ حصر سره ئیے اوئیل یعنی چاوئیل چه دے مجنون دے چاوئیل چه دے شاعر دے او قرآن شعر دے چاوئیل چه دے کاهن دے نو دے مکذب دَ هغے تردید اوکړوچه دا حکمونه غلط دی بلکه صرف سحردے چه په هغے سره اولاد دَ موراوپلارنه اورونړه دَ یوبل نه جداکوی یعنی یوشخص ایمان راوړی نودَ هغه بل سره ئیے دُشمنی پیداشی۔ ﴿يُؤْثَرُ﴾ په دے کښ اشاره ده چه دا زورسحردے دَ مخکښ ساحرانونه نقل کړے شویدے یعنی مجرب دے۔ ﴿اِنْ هٰذَآ اِلَّا قَوْلُ الْبَشَرِ﴾ (سوال) په دواړه جملو کښ حصر دے اوحال دا دے چه حصرپه یوکښ صحیح وی یا به سحروی یا به قول البشروی ؟ (جواب:۱) داکلام دَ منکردے نو هغه منکر په هغے کښ مضطرب دے کله یوطعن کوی نوکله بل طعن کوی (جواب:۲) اول حصر په نسبت دَ کهانت اوشعر سره وؤ او دا حصر په نسبت دَ قول دَ اللّٰه تعالیٰ سره دے یعنی دا دَ اللّٰه تعالیٰ قول نه دے۔

[۲۷،۲۶] دا تخویف اخروی دے په سقرسره اودَ هغے هیبت شان په پنځه حالاتو سره ذکرکوی۔ ﴿سَقَرَ﴾ سقر په لغت کښ وِیلے کولو او بدشکله کولوته وئیلے کیږی دَ ابن عباس رضی اللّٰه عنهما نه روایت دے چه دا نوم دَ شپږمے طبقے دَ جهنم دے۔

[۲۸] فرق دَ دواړوپه څو وجوهو سره دے اوله وجه داچه باقی نه پریږدی هیڅ ځیز(چه پکښ داخل شی) مګر هلاك به ئے کړی اوپه حالت دَا هلاك کښ به ئے هم نه پریږدی تردے چه دوباره جوړشی او

النَّارِ اِلَّا مَلٰٓئِكَةً ۙ وَّمَا جَعَلْنَا عِدَّتَهُمْ اِلَّا فِتْنَةً لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا ۙ لِيَسْتَيْقِنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ
وَيَزْدَادَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِيْمَانًا ۙ وَّلَا يَرْتَابَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ وَالْمُؤْمِنُوْنَ ۙ وَلِيَقُوْلَ الَّذِيْنَ
فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ وَّالْكٰفِرُوْنَ مَاذَآ اَرَادَ اللّٰهُ بِهٰذَا مَثَلًا ۭ كَذٰلِكَ يُضِلُّ اللّٰهُ مَنْ يَّشَاۗءُ وَ
يَهْدِيْ مَنْ يَّشَاۗءُ ۭ وَمَا يَعْلَمُ جُنُوْدَ رَبِّكَ اِلَّا هُوَ ۭ وَمَا هِيَ اِلَّا ذِكْرٰى لِلْبَشَرِ ۝ كَلَّا وَالْقَمَرِ ۝ ع ۱۵

دَ اور مګر ملائك او نه ده ګرځولے مونږ شماره دَ دوی مګر امتحان دپاره دَ کافرانو دَ دے دپاره چه پوخ یقین اوکړی هغه کسان چه ورکړے شویدے کتاب او زیاتی شی مؤمنان په ایمان کښ اوشك اونکړی هغه کسان چه ورکړے شویدے کتاب او مؤمنان او چه او وائي هغه کسان چه په زړونو دَ هغوی کښ مرض (نفاق) دے او نور کافران چه څه غوختی دی اللّٰه تعالیٰ په دے بیان سره دغسے ګمراه کوی اللّٰه تعالیٰ هغه څوك چه اوغواړی او هدایت کوی هغه چاته چه اوغواړی او نه پیژنی لښکرے دَ رب ستا مګر هغه او نه دے دا مګر یاداشت دے انسانانو لره (۳۱) یقیناً داسے ده او قسم دے په سپوګمئے باندے (۳۲)

داسے کار به همیشه وی۔ دویمه وجه داچه نه به پریږدی غوښه اونه به پریږدی هډوکی دَ دوی ۔دریمه وجه داچه نه به ئے پریږدی بغیر دَ عذاب نه اونه به ئے پریږدی په حالت دَ عذاب کښ۔

[۲۹] ﴿لِلْبَشَرِ﴾ مراد دَ دے نه ظاهری څرمن ده یعنی ټوله څرمن دَ بدن دَ جهنمی به داسے اوسوځوی چه تورستوکورے به شی اوبل قول دا دے چه بشرنه مراد انسانان دی۔

[۳۰] دا عدد دے دَخوکیدارانودَ جهنم چه په دوی کښ مالك (سردار) دَ دوی داخل دے۔ اوقرطبی وئیلی دی صحیح دا ده چه داټول به سرداران اونقیبان وی اودَ دوی دَلاندے ۱۹ شماره نورملائك دی لکه چه روستو راځی۔ وَمَا يَعْلَمُ جُنُوْدَ رَبِّكَ اِلَّا هُوَ۔

[۳۱] په دے ایت کښ ذکر دَ مصداق دَ تیرشوی اسم عدد دے یعنی چه هغه ملائك دی اوذکر دَ حکمتونودَ دغه عدد دے ﴿وَمَاجَعَلْنَا عِدَّتَهُمْ اِلَّافِتْنَةً﴾ دا دَ عدد خاص (تسعة عشر) اوله فائِده ده فِتْنَةً په معنیٰ دَ امتحان یا په معنیٰ دَګمراهئی یا په معنیٰ دَ عذاب سره دے اوسبب (مضاف) محذوف دے اوسبب دَا متحان اودَګمراهئی دَ ډیرو وجوهونه دے اوله داچه نورلس دی نوشل ولے نه دی اوحال دا دے چه دا اعتراض خوپه هریوعدد باندے کیدیشی۔ دویمه وجه داچه اللّٰه تعالیٰ کمزورے دے چه صرف نورلس نوکران ئے دی لیکن ورپسے فرمائیلی دی﴿وَمَايَعْلَمُ جُنُوْدَ رَبِّكَ﴾دریمه وجه داچه کافرانواستهزاء کوله چه ۱۹ شمیره کافران دی نونورلس ملائك به هغوی لره څه رنګ جهنم کښ واچوی اوپه هغے کښ به ئے راګیرکړی لیکن حال دا چه یوملك (جبرئیل) یویو غر اوکلے هم پورته کولے شی نودا اعتراضونه سبب دَګمراهئی دی۔ اودَ سبب دَ عذاب دا معنیٰ ده چه په اخرت کښ به ملائك دَ دوی په عذاب ورکولو باندے مقرر وی او هغوی ته زبانیه ملائك وئیلے شی ﴿لِيَسْتَيْقِنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ﴾ دا متعلق دے دَ جعلنا سره اودویمه فائِده دَ عدد ذکرکوی یعنی کافران اهل کتاب به دَ دے عدد په اوریدلوسره پوره یقین اوکړی په صدق دَ رسول اوقرآن باندے ځکه چه په تورات اوانجیل کښ هم دا عدد ذکردے ﴿وَيَزْدَادَ﴾ دا دریمه فائِده ده یعنی مؤمنان دَ اهل کتابونه، چه دَ مخکښ نه دَ هغوی یقین اواقرار وؤپه صدق دَ قرآن او رسول

وَالَّيْلِ اِذْ اَدْبَرَ ﴿٣٣﴾ وَالصُّبْحِ اِذَآ اَسْفَرَ ﴿٣٤﴾ اِنَّهَا لَاِحْدَى الْكُبَرِ ﴿٣٥﴾ نَذِيْرًا لِّلْبَشَرِ ﴿٣٦﴾ لِمَنْ شَآءَ مِنْكُمْ

او په شپه باندے کله چه شا اوګرځوی (۳۳) او په صبا باندے کله چه رنړا کړی (۳٤) یقیناً دا یو دے دَ لویو ځیزونونه (۳۵) ویره ورکوؤنکے انسانانو ته (۳٦) هغه چا لره چه غواړی ستاسو نه

باندے اودا ایمان دے او دَ دے عدد په اوریدلو سره (په موافقت دَ تورات اوانجیل سره) دَ دوی ایمان نور زیات شو اودا دلیل دے چه په ایمان کښ زیاتے راتلے شی لکه چه دا دَ ډیرو محدثینو مسلك دے۔ او دے ته ئیے زیادت په دے وجے سره اوئیلو چه اظهار دَ یقین په ژبه اوعمل سره باربار کیږی نو نورو خلقوته دَ هغے علم حاصلیږی او صرف یقین خوپټ دے دَ هغے دَ زیادت پته نه لګی ﴿وَلَا يَرْتَابَ الَّذِيْنَ﴾ دا څلورمه فائِده ده (سوال) دَ لیستیقن نه روستو ولایرتاب څه فائِده لری اوالمؤمنون ئیے دوباره ولے ذکر کړو؟ (جواب) کله کله یقین دَ یو انسان حاصل شی لیکن بیا دَ وسوسو او شبهاتو په سبب سره په هغے کښ شك پیداشی نویقین زائله شی دَ دے وجے نه دلته ئیے نفی دَ ارتیاب اوکړه چه دا داسے خبره ده چه په دے کښ شك شبه هم نشی راتللے اودلته دَ (اُوْتُوا الْكِتَابَ) نه عالمان دَتورات اوانجیل مراد دی اومخکښ عوام مراد وؤ۔ اوالْمُؤْمِنُوْنَ نه مراد مؤمنان دَ دے امت دی اومخکښ مؤمنان دَکتابیانومراد وؤ ﴿وَلِيَقُوْلَ الَّذِيْنَ﴾ دا پنځمه فائِده ده ﴿مَثَلًا﴾ په معنیٰ دَ حدیث (خبرے) سره دے یا په معنیٰ دَ مثال سره دے په ګمان دَ دوی کښ یعنی دَ دوی خیال وؤچه په دے سره معنیٰ ظاهری مرادنه ده بلکه اللّٰه تعالیٰ په طریقه دَ مثال سره ذکر کړے ده لیکن په مثال سره مقصد څه دے؟ ﴿كَذٰلِكَ﴾ دا جواب دَ دے قول دے چه مَاذا اوكَذٰلِكَ خبردَ مبتدا محذوف دے یعنی اَلْاَمْرُ كَذٰلِكَ، یعنی مقصد دَ دے معنیٰ ظاهری ده او فائِدے پکښ اضلال دَ بعضواو هدایت دَبعضودے لکه چه سورة بقره (۲٦) کښ ذکردے۔ اودا ایت صریح دلیل دے چه اضلال او هدایت په لاس دَ اللّٰه تعالیٰ کښ دی ﴿وَمَا يَعْلَمُ جُنُوْدَ رَبِّكَ اِلَّا هُوَ﴾ دا جواب تحقیقی دے دَ اعتراض دَ مشرکانو چه هغوی وئیل چه نورلس کسان به څه کار اوکړی؟ دَ جواب حاصل دا دے چه نورلس خومشران دی اونور ملائك دَ انسان دَ شمارے نه بهردی او دارنګ دا رد دے په فلاسفؤ دَ یونان وغیره باندے چه هغوی وئیلی ووپه نورلس کښ لس عقول عشره دی اونهه نفوس دی اودا قول دَ دوی انکار دے دَ ملائکونه۔ ﴿وَمَا هِيَ﴾ پدے ضمیرکښ درے توجیهات دی اول دا راجع دے اٰیاتِ قرآنیه او دلیلونوته نو ترغیب الی القرآن دے۔ دویم، ضمیرراجع دے نارته یعنی ذکرَ دَ سقرکښ مقصد تخویف اخروی دے دریم دا راجع دے جنود ته یعنی په ذکر دَ دے لښکرو کښ دَ قدرت اودَ علم دَ اللّٰه تعالیٰ تذکیر او یا داشت دے بشرته او دا مرجع نزدے ده ۔

[۳٤،۳۳،۳۲] ﴿وَالصُّبْحِ اِذَآ اَسْفَرَ﴾ هرکله چه ادبار دلالت کوی په تیریدلو باندے نوحرف دَ اِذ(چه دلالت کوی په ماضی باندے) ئیے راوړو اوهرکله چه صبا په شپے پسے رنړاکوی اواستقبال سره تعلق لری نو حرف دَ اِذَا ئیے راوړو۔ اَسْفَرَ: دَ دے معنیٰ دَکشف اودَ خروج ده یعنی دَ تیرے دَ شپے نه را اوځی اورنړا اوکړی ۔ په قمرکښ خو اختلاط دَ رنړا دَ سپوګمئے او تیرے دَ شپے وی اودَ شپے خو صرف تیرے دی اودَ صبا خو صرف رنړا ده اودا ټول تصرفات دَ اللّٰه تعالیٰ اودَ هغه عظیم قدرت دے۔

اَنْ يَّتَقَدَّمَ اَوْ يَتَاَخَّرَ ﴿٣٧﴾ كُلُّ نَفْسٍۢ بِمَا كَسَبَتْ رَهِيْنَةٌ ﴿٣٨﴾ اِلَّاۤ اَصْحٰبَ الْيَمِيْنِ ﴿٣٩﴾ فِيْ جَنّٰتٍ ۛ
يَتَسَآءَلُوْنَ ﴿٤٠﴾ عَنِ الْمُجْرِمِيْنَ ﴿٤١﴾ مَا سَلَكَكُمْ فِيْ سَقَرَ ﴿٤٢﴾ قَالُوْا لَمْ نَكُ مِنَ الْمُصَلِّيْنَ ﴿٤٣﴾ وَلَمْ نَكُ

دا چه مخکښ شی یا روستو شی (۳۷) هر یو نفس په خپل عمل کښ به ګانړه وی (۳۸) مګر ښی لاس والا (۳۹) په جنتونو کښ به وی تپوسونه به کوی (٤٠) دَ مجرمانو نه (٤١) څه څیز داخل کړئے تاسو په سقر (اور) کښ (٤٢) دوی به اُوائي نه وؤ مونږ دَ مونځ ګذارو نه (٤٣) او نه مونږ ورکوؤ

[۳۷،۳٦،۳۵] دا جواب قسم دے ﴿اِنَّهَا﴾ ضمیر راجع دے ایاتونو او دلیلونو دَ قرآن ته لکه چه تیرشوی ضمیر هِیَ کښ دا توجیه وه او دَ روستو جملو سره دَ دے پوره مناسبت دے یاضمیر راجع دے سقرته یا تکذیب دَ نبی ﷺ ته راجع دے په تاویل دَ خصلت سره یا قیامت ته راجع دے ﴿نَذِيْرًا لِّلْبَشَرِ﴾ دا صفت دَ قرآن او دَرسول دے اوصفت دَ نارِ سقراودَ قیامت هم کیدے شی ﴿اَنْ يَّتَقَدَّمَ﴾ مراد دَ دے نه ایمان راوړل دی ځکه چه هغه تقدم دے په دنیاکښ خیرته اوپه اخرت کښ جنت ته ﴿اَوْيَتَاَخَّرَ﴾ مراد دَ دے نه کفراوشرك کول دی چه په هغے سره روستوشودَ خیرد َ دنیانه اومحروم دے دَ جنت نه اودا دوه قسمونه په سورة الحجر(۲٤) کښ هم ذکر دی۔ او دا مشیت په طریقه دَ زور نے سره ذکردے لکه سورة کهف(۲۹)۔

[۳۸] دا تخویف دے (یتأخر) والوته۔

[۳۹،٤٠،٤١] دا استثناء متصل ده دَ کل نفسٍ نه یعنی اصحاب الیمین دَ ایمان او عمل صالح په وجے سره حق اداکړیدے نوځان ئے خلاص کړو لکه چه مدیون دائن ته دین (قرض) اداکړی نوخپله ګانړه ازاده کړی۔ (سوال) په سورة مؤمنون (۱۰۱) کښ معلومیږی چه هیڅوك به تساؤل نشی کولے ؟ (جواب) هغه حال په میدانِ حشر کښ مخکښ دَ فیصلے نه دے اوداحال په جنت کښ دننه دے ﴿اَلْمُجْرِمِيْنَ﴾ هغه کسان دی چه هغوی پټ کفر اوشرك په خپلوعملونوسره بنکاره کړے دے دَ دے وجے نه روستو ئے هغه اعمال ذکرکړی دی چه په هغے سره دَ دوی کفر بنکاره شوے دے اګرچه هغه مطلقاً کفرنه دے۔

[٤٢] لفظ دَ سلك کنایه ده دَ ډیر تنګ والی دَ سقرنه لکه چه تنګ سوری کښ غټ تاریا څه څیز داخلیدلے شی۔

[٤٣] په دے کښ اشاره ده چه ترك دَ صلوٰة سبب دَ دخول دَ سقر دے او دارنګ کافرانوته به عذاب وی په ترك دَ فروعو سره سرهٔ دَکفرنه۔ لفظ دَ مُصَلِّيْنَ، په صیغه جمع سره اشاره ده چه صلوٰة دَ دوی دَ صحابو پشان نه وؤ او دارنګ دَ هغوی دَ جماعت نه ئے نفرت وؤ۔ اوترك دَ صلوٰة اشاره ده ترك دَ ټولو عباداتوته۔

نُطْعِمُ الْمِسْكِيْنَ ﴿٤٤﴾ وَكُنَّا نَخُوْضُ مَعَ الْخَآئِضِيْنَ ﴿٤٥﴾ وَكُنَّا نُكَذِّبُ بِيَوْمِ الدِّيْنِ ﴿٤٦﴾ حَتّٰٓى اَتٰىنَا الْيَقِيْنُ ﴿٤٧﴾
فَمَا تَنْفَعُهُمْ شَفَاعَةُ الشّٰفِعِيْنَ ﴿٤٨﴾ فَمَا لَهُمْ عَنِ التَّذْكِرَةِ مُعْرِضِيْنَ ﴿٤٩﴾ كَاَنَّهُمْ حُمُرٌ مُّسْتَنْفِرَةٌ ﴿٥٠﴾
فَرَّتْ مِنْ قَسْوَرَةٍ ﴿٥١﴾ بَلْ يُرِيْدُ كُلُّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ اَنْ يُّؤْتٰى صُحُفًا مُّنَشَّرَةً ﴿٥٢﴾ كَلَّا ط بَلْ لَّا يَخَافُوْنَ

خوراك مسكين ته (٤٤) او وؤمونږه چه مشغولیدو په عبثو کښ سره دَ مشغولتیا کوؤنکو نه (٤٥) او ووُ مونږه چه تکذیب موکوؤ دَ ورځے دَ جزاء (٤٦) تر دے پورے چه راغے مونږ ته مرګ (٤٧) نو نفع نه ورکوی دوی ته سفارش دَ سفارش کوؤنکو (٤٨) نو څه وجه ده دوی لره چه دَ نصیحت دَ قرآن نه مخ اړوی (٤٩) ګویا کښ چه دوی خره دی تیخته کوؤنکی (٥٠) چه تیخته کوی دَ ازمری نه (٥١) بلکه غواړی هر سړے دَ دوی نه چه ورکړے شی هغه ته پانړے خورے ورے (٥٢) هیڅرے نیشته بلکه دوی نه ویریږی

[٤٤] مراد ترینه ترك دَ عباداتو مالیودے چه مصرف دَ هغے په شرع کښ مسکینان دی لکه زکوٰة او نذر لِلّٰه تعالیٰ۔

[٤٥] ﴿نَخُوْضُ﴾ خوض، باطل بحث کول اوعمل کول دی یعنی هرباطل مجلس او باطل جماعت اوګمراه خلقو سره مونږ بنه ملګرتیا کوله۔ دَ شرك اوکفر مجلسونوکښ کیناستل او دَ فسق وفجور کارونوکښ شرکت کول لکه عرسونه میلادونه (دَ بدعاتو په رنګ) سنیماګانے وغیره دے ټولوته دا لفظ شامل دے مفسر الوسی ذکرکړی دی چه کوموجلسو اجتماعاتومجلسونوکښ دَ صحابه کرامواعیبونه وئیلے کیږی هغه هم په دے کښ داخل دی۔

[٤٦] دَ دے ټولو جرمونو منشاء دا ده چه په قیامت باندے عقیده نه لری بلکه بنکاره انکارکوی۔

[٤٧] ﴿الْيَقِيْنُ﴾ په معنیٰ دَ مرګ دے لکه سورة حجر(٩٩) کښ ځکه چه عقل والا بلکه مطلق شعور والا مرګ باندے یقین کوی په مرګ کښ اختلاف نیشته اګر چه دَ هغے په اسبابوکښ یا دَ هغے نه په مابعد حالاتو کښ اختلاف دے۔

[٤٨] حرف دَ فا دلالت کوی چه ماقبل جرمونه سبب دَ حرمان دَ شفاعت دی ﴿فَمَا تَنْفَعُهُمْ﴾ تخصیص په ضمیر دَ هُمْ سره دلالت کوی چه دَ دے قسم مجرمانو نه علاوه نورو مؤمنانو ګنهګارو دَپاره هم شفاعت کیدے شی دا عقیده دَ اهل سنت والجماعت ده او نفی دَ نفع نه مراد نفی دَنفس شفاعت ده یعنی دے مجرمانو دَپاره شفاعت نیشته نو نفع به څرنګ وی۔

[٤٩، ٥٠، ٥١] دا زجردے اوسبب ذکرکوی دَ تیرشوی ذکر شوؤ جرمونو چه هغه اعراض دے دَ قرآن کریم نه ﴿فَمَا لَهُمْ﴾ استفهام دَ فائدے او دَ دلیل دے یعنی دَ اعراض دَ قرآن دَپاره دَ دوی څه دلیل دے اوځه فائده ده ﴿قَسْوَرَةٍ﴾ دَ دے دوه معنے مشهورے دی یواسد (ازمرے) چه حمار وحشی دَ هغه نه ډیر ویریږی، دویم ویشتونکے (بنکارکوؤنکے) انسان۔ اوقسورة مفرد اوجمع دواړه استعمالیږی۔ اوقَسْوَرَةٍ شورکولوته هم وئیلے شی۔ اشاره ده چه قرآن بیانوؤنکے پشان دَ ازمری په شجاعت کښ اوپشان دَ بنکارکوؤنکی دے په دعوت دَ خلقوکښ اودَ هغه نه اعراض کوؤنکی پشان دَ وحشی خرونو دی۔

الْاٰخِرَةَ ﴿٥٣﴾ كَلَّآ اِنَّهٗ تَذْكِرَةٌ ﴿٥٤﴾ فَمَنْ شَآءَ ذَكَرَهٗ ﴿٥٥﴾ وَمَا يَذْكُرُوْنَ اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ ۭ هُوَ اَهْلُ التَّقْوٰى وَاَهْلُ الْمَغْفِرَةِ ﴿٥٦﴾

دَ اخرت نه (٥٣) یقیناً دا خامخا نصیحت دے (٥٤) نو څوك چه غواړی نصیحت دے واخلی (٥٥) او نه اخلی دوی نصیحت مګر چه اوغواړی اللّٰه تعالیٰ هغه لائق دے دَ دے چه ویره ترے اوکړیشی او هغه لائق دے دَ بخنے کولو (٥٦)

[٥٢،٥٣،٥٤،٥٥] دا هم زجردے دَ دوی په قول قبیحه باندے او په دے کښ ډیر احتمالات دی اول داچه هر یوشخص ته دِ دَ قرآن پشان ښکاره کتاب ورکړے شی لکه په سورة انعام (١٢٤) کښ دی۔ دویم داچه هریوشخص ته دِ دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه پیغام وی دَ دے نبی په صدق باندے۔ دریم داچه هریو شخص ته دَ اورنه برائت نامه را اولیږلے شی۔ څلورم داچه هرشخص ته دِ دَ هغه دَ ګناهونو او دَ هغے دَ کفارے فهرستونه ورکړے شی او داټولے دَ دوی دَ عناد خبرے دی۔ ﴿فَمَنْ شَآءَ ذَكَرَهٗ﴾ یعنی دا قرآن دِ لولی اودَ دے درس وتدریس دِ کوی اوپه دے باندے دِ عمل کوی په شآء لفظ کښ اشاره ده چه دَ قرآن نه دَ وعظ حاصلولو دَپاره پوره اراده او توجه کول ضروری دی۔ او شربینی وئیلی دی چه دَ دے مثال دَ خوږ سمندر دے څوك چه غواړی نو چونګونه اولپے ترینه ډکوی نقصان پکښ نه رائی۔

[٥٦] په دے کښ تصریح ده چه دَ بنده کارونه په مشیّت (ارادے) دَ اللّٰه تعالیٰ سره دی دارنګ په سورة تکویر (٢٩) کښ هم دی لیکن په هغه سورة کښ کلام دے په مشیّت باندے نو دَ انسان مشیت ئے په مشیت دَ اللّٰه تعالیٰ باندے موقوف کړو اوپه دے سورة کښ بحث دے په تذکیر باندے نو تذکیر دَ انسان ئے مشروط کړو په مشیت دَ اللّٰه تعالیٰ باندے ﴿هُوَ اَهْلُ التَّقْوٰى﴾ یعنی په تذکیر دَ قرآن سره تقویٰ دَ شرك اوکفر نه حاصلیږی او په تقویٰ سره مغفرت حاصلیږی او دا دواړه خاص دی په اللّٰه تعالیٰ پورے دَ دے وجے نه ئے اهل اُوئیلو۔

سُوْرَةُ الْقِيٰمَةِ (٧٥) مَكِّيَّةٌ (٣١) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ٤٠ رُوْعَاتُهَا ٢

لَآ اُقْسِمُ بِيَوْمِ الْقِيٰمَةِ ۙ﴿١﴾ وَلَآ اُقْسِمُ بِالنَّفْسِ اللَّوَّامَةِ ۭ﴿٢﴾ اَيَحْسَبُ الْاِنْسَانُ اَلَّنْ نَّجْمَعَ عِظَامَهٗ ۭ﴿٣﴾

داسے نه ده قسم کوؤم په ورځ دَ قیامت (۱) او داسے نه ده قسم کوؤم په نفس ملامته کوؤنکی (۲) ایا گمان کوی انسان چه چرے به جمع نه کړو مونږ هډوکی دَ ده (۳)

سورة القيامة

ربط: دَ دے سورة دَ ماقبل سره په څو وجوهو سره دے اوله وجه دا ده چه مخکښ زجر وؤپه معرضینو عن القرآن باندے نوپه دے سورة کښ تخویف اخروی دے هغوی لره۔ دویمه وجه دا ده چه مخکښ تیزی ورکول وؤپه تبلیغ دَقرآن باندے اوپه دے سورة کښ ادب دے دَ تعلُّم دَ قرآن۔ دریمه وجه دا ده چه په مخکښ سورة کښ رد وؤپه مکذبینودَ حشر باندے نوپه دے سورة کښ اثبات دَحشردے۔ (پوهه شئے) چه دَ دے سورة نه ترسورة الاعلی پورے پدے ټولوکښ دَ قیامت اثبات دے په شواهدو اوپه دلیلونو سره او ذکر دَ حالاتو دَ قیامت دے په تفصیل سره او په هر سورة کښ جدا جدا عنوان دے۔

دعویٰ دَ دے سورة: اثبات دَ قیامت دے په ذکردَ جمع العظام سره په (۳) کښ اودَ اللّٰه تعالیٰ یونوم ئے مکرر ذکرکړے دے (ربّ)۔

خلاصه دَ سورة: اول ئے دوه شواهد ذکرکړیدی اودعویٰ دَ سورة ده تر(٤) پورے بیا زجردے په انکار دَ حشرباندے په (٦،٥)کښ بیا لس حالات دَ قیامت ذکرکوی دَپاره دَ تخویف اخروی تر (١٥) پورے۔ بیا ذکر کوی ادب دَ قرآن په عدم تعجیل سره اوپه اتباع دَقرآن سره اوداکارونه دَ اللّٰه تعالیٰ په باره کښ، دَ قرآن جمع کول، لوستل ،بیانول، اوپه دے کښ مقصد دے اشغال په قران باندے دَپاره دَیاداشت دَقیامت تر(١٩)پورے بیا زجردے په محبت دَ دنیا اوترك دَ اخرت باندے اوبشارت دے اهل اخرت ته تر (٢٣) پورے بیا تخویف دے دُنیا پرستوته په ذکر دَ حالت دَ نزع سره تر(٣٠)پورے۔ بیا زجر دے په څلور امورو سره انکاردَ قیامت اودَ توحید او رسالت اوقرآن سرهٔ دَ زجرشدید نه په انکاردَ بعث بعد الموت۔ اواثبات دَ بعث دے په دلیل سره۔

تفسیر

[٢،١] ﴿لَآ﴾ لآ په مقام دَ قسم کښ راوړل عادت دَ عربو دے اکثرپه مینځ دَکلام کښ۔ اوپه اول دَکلام کښ هم کله کله رائی ځکه چه داکلام اللّٰه تعالیٰ دَ مخکښ کلام سره په ربط اوترتیب سره ذکرکړے دے لکه چه مخکښ سورة کښ تکذیب دَ قیامت ئے ذکرکړونودلته فرمائی لآ، یعنی تکذیب نه دے جائزنوپه دے کښ نفی دَ انکارسابق ده اوپه قراءة دَ ابن کثیرقاری کښ لآ، بغیردَ الف نه دے نو په دے کښ معنیٰ دَ تاکید ده دا سے بحث په تفسیر دَ سورة الواقعة کښ تیرشوے دے ﴿اُقْسِمُ بِيَوْمِ الْقِيَامَةِ﴾ مراد دَ یوم القیامة نه دَ هغے احوال دی چه څه مخکښ سورتونوکښ ذکردی اوځه به روستو سورتونوکښ ذکرکوی دغه حالات شاهد دی چه قیامت او هډوکی راجمع کول اودوباره ژوندی کول یقینی دی

بَلٰى قٰدِرِيْنَ عَلٰٓى اَنْ نُّسَوِّيَ بَنَانَهٗ ۝٤ بَلْ يُرِيْدُ الْاِنْسَانُ لِيَفْجُرَ اَمَامَهٗ ۝٥ يَسْـَٔلُ اَيَّانَ يَوْمُ الْقِيٰمَةِ ۝٦ فَاِذَا بَرِقَ الْبَصَرُ ۝٧ وَخَسَفَ الْقَمَرُ ۝٨ وَجُمِعَ الشَّمْسُ وَالْقَمَرُ ۝٩ يَقُوْلُ الْاِنْسَانُ يَوْمَئِذٍ اَيْنَ الْمَفَرُّ ۝١٠

ولے نه بلکه قدرت لرو په دے چه برابر کړو بندونه دَ ګوتو دَ دهٔ (٤) بلکه غواړی انسان چه انکار اوکړی دَ مخے دَحالاتونه (٥) تپوس کوی کله به وی ورځ دَ قیامت (٦) نو کله چه کِیږے بړے شی سترګے (٧) او توره شی سپوږمئے (٨) او جمع کړیشی نمر او سپوږمئے (٩) وائي به انسان پدغه ورځ چه کوم ځائے دے دَ تختیدلو (١٠)

﴿وَلَآ اُقْسِمُ بِالنَّفْسِ اللَّوَّامَةِ﴾ تکرارد لَآ اُقسِمُ، دَپاره دَ تاکید دے او دارنګ دویم حالت چه (نُسوِّیَ بَنَانَهٗ) دے دَ دے اثبات هم مقصد دے ﴿بِالنَّفْسِ اللَّوَّامَةِ﴾ هغه مؤمن دے چه دنیاکښ هروخت دَ ځان سره حساب کوی که څه ګناه اوکړی نو توبے اوباسی اوکه څه خوراك څښاك اوکړی نو ځان سره وائي چه دا ما دَ څه مقصد دَپاره اوکړو او ماځه شکریه اداکړے ده؟۔ اودَ دے ذکرسورة العمران (١٣٥) کښ هم دے هرکله چه ورځ دَ قیامت وخت دَ حساب دے دَ ټولوسره او نفس لوَّامة حساب کوؤنکے دے دَ خپل ځان سره دَ دے وجے نه دواړه ئیے په یوځائے کښ جمع کړل۔

[٤،٣] دا زجر دے مشتمل دے په دعویٰ دَ سورة باندے ﴿عَلٰٓى اَنْ نُّسَوِّيَ بَنَانَهٗ﴾ په دے کښ دوه قولونه دی اول داچه لکه مونږ قدرت لرو دَ بندونو په فناکولواوخاورے کولونودارنګ قدرت لرو دَدے بندونوپه دوباره جوړولو باندے اودا خوواړه هلهوکی اوباریك جوړخ دے نومعلومه شوه چه دَ غټو هلهوکوپه جمع کولوخو ضرور قدرت لرو دویم قول دا دے چه قدرت لرو چه ګوتے دَلاسونواوخپوستاسوهمواړے کړواودَ اوښ پشان یوه خپړه ترینه جوړه کړواوبیا به ورباندے هیڅ کارنشئے کولے اودا پشان دَ سورة واقعه (٦١) شولیکن اول قول غوره دے۔

[٦،٥] دا هم زجردے ﴿اَمَامَهٗ﴾ ضمیر راجع دے انسان ته اومراد دَ راتلونکے نه عذاب دَ قبراوبیا بعث اوحساب اومیزان دے یا ضمیرراجع دے یوم القیامة ته اومفعول دَیفجرپټ دے یعنی لیفجربالحق (چه انکارکوی دَحق نه مخکښ دَ راتللودَقیامت نه)

[٩،٨،٧] دا تخویف دے په ذکر دَ هیبتونو دَ ورځ دَ قیامت سره او دا جواب دَ اَیّانَ دے په طریقه دَ تخویف سره ﴿بَرِقَ﴾ په معنیٰ دَ تحیّراودَ دهشت دے یا په معنیٰ دَ اوچت والی اوپه ځائے باندے اودریدل دَ سترګودی لکه سورة ابراهیم (٤٣) کښ اودا حالت په وخت دَ مرګ اوپه وخت دَ بعث په دواړو کښ دے ﴿وَخَسَفَ الْقَمَرُ﴾ دا خسوف دَهمیشه دَپاره دے او خسوف دَقمرپه دنیاکښ دَ یووخت دَپاره وی۔ ﴿وَجُمِعَ الشَّمْسُ وَالْقَمَرُ﴾ مراد دَ جمع نه دَ دواړو خسوف دے یعنی دواړه به یوشان بے رنړا شی۔ یا مراد دا دے چه دَ مغرب دَ طرف نه به دواړه یوځائے خړ راښکاره شی اودا قول دَ ابن عباس اوابن مسعودﷺ نه روایت دے یا دا چه په ورځ دَ قیامت به دواړه راجمع کړیشی اوپه اور دَ جهنم کښ به ئیے واچوی دَپاره دَ ملامته کولو دَ هغه چاچه دَ دوی عبادت ئیے کوؤ دَعذاب دَپاره به ئیے نه اچوی۔

[١٢،١١،١٠] دا هم دَ قیامت دَ مصیبتونو ذکر دے ﴿اَلْاِنْسَانُ﴾ هر انسان مراد دے که مؤمن وی او که

كَلَّا لَا وَزَرَ ﴿۱۱﴾ اِلٰى رَبِّكَ يَوْمَىِٕذِ ِۨالْمُسْتَقَرُّ ﴿۱۲﴾ يُنَبَّؤُا الْاِنْسَانُ يَوْمَىِٕذٍۭ بِمَا قَدَّمَ وَاَخَّرَ ﴿۱۳﴾ بَلِ الْاِنْسَانُ
عَلٰى نَفْسِهٖ بَصِيْرَةٌ ﴿۱۴﴾ وَّلَوْ اَلْقٰى مَعَاذِيْرَهٗ ﴿۱۵﴾ لَا تُحَرِّكْ بِهٖ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهٖ ﴿۱۶﴾ اِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهٗ
وَقُرْاٰنَهٗ ﴿۱۷﴾ فَاِذَا قَرَاْنٰهُ فَاتَّبِعْ قُرْاٰنَهٗ ﴿۱۸﴾ ثُمَّ اِنَّ عَلَيْنَا بَيَانَهٗ ﴿۱۹﴾ كَلَّا بَلْ تُحِبُّوْنَ الْعَاجِلَةَ ﴿۲۰﴾ وَ

چرے نیشته، نیشته بچ کیدل (۱۱) ستا رب ته په دغه ورځ قرار دے دَ ټولو (۱۲) خبر به ورکړیشی انسان ته په دغه ورځ په هغه عمل چه مخکښ ئے لیږلے دے او روستو ئے پریښے دے (۱۳) بلکه انسان خپل ځان لره لیدونکے دے (۱۴) اګر چه غورځوی بهانے (۱۵) مه خوځوه په دے قرآن سره ژبه خپله چه تادی کوے په دے سره (۱۶) یقیناً زمونږ په ذمه باندے جمع کول دَ دے دی او لوستل دَ دے (۱۷) نو هر کله چه مونږ ئے او لولو نو روان شه په لوستلو دَ دے پسے (۱۸) بیا یقیناً زمونږ په ذمه باندے وضاحت کول دی دَ دے (۱۹) چرے داسے نه ده بلکه مینه کوئے تاسو دَ دنیا سره (۲۰) او

کافروی دَ وجے دَهییت نه به داسے وائي۔ یا مراد دَ دے نه صرف کافر دے۔

[۱۳] دا هم حال دَ اخرت دے په وخت دَ حساب یا دَ وزن دَ اعمالویا صحیفوتقسیمولو په وخت کښ ﴿بِمَاقَدَّمَ وَاَخَّرَ﴾ په دے کښ توجیهات دی (۱) قَدَّمَ، دَ مرګ نه ئے مخکښ کړیدی نیك یا بدعملونه وَ اَخَّرَ، دَمرګ نه روستو ښه طریقه یا بده طریقه ئے پریخودلے ده (۲) قَدَّمَ، ګناه ئے کړے دے اَخَّرَ، طاعت ئے پریخودلے دے۔

[۱۴،۱۵] بَل دَپاره دَ ترقئ دے دَ یُنَبَّؤُا نه یعنی اخبارته حاجت نیشته انسان پخپله په ځان باندے ګواه دے۔ (سوال) بصیرت مؤنث دے او انسان خو مذکردے؟ (جواب)اول داچه مراد ترینه جوارح(اندامونه) دی یعنی جَوَارِحُهٗ شَاهِدَةٌ۔ دویم دا چه (تا) په بصیرة کښ دپاره دَ مبالغے ده نه ده دپاره دَ تانیث۔ دریم الانسان کښ لامِ جارّه پټ دے یعنی للانسان علٰی نفسه جوارح بصیرة ﴿مَعَاذِيْرَهٗ﴾ جمع دَ معذارده په معنیٰ دَ پردے دے یعنی اګرچه په ځان باندے پردے اچوی اوخپل عملونه پټوی دَ وجے دَ شرم نه۔

[۱۶،۱۷،۱۸،۱۹] په دے ایاتونوکښ ذکر دَ ادب دے نبیﷺ ته په وخت دَ وحی راوړلو دَ جبرئیلؑ اولوستلو دَ هغے کښ نبیﷺ ته۔ ځکه حدیث صحیح دَ بخاری کښ ثابت ده چه نبیﷺ به په اوله زمانه دَ وحی کښ ډیر تکلیف برداشت کوؤ چه کله به جبرئیلؑ وحی لوسته نو دهٗ به ورسره شونډے خوځولے اولوستل به ئے کول اوپه ځان باندے به ئے مشقت تیرولو دَ دے دَپاره چه هیرنشی نو الله ورته اول ایت کښ اول ادب اوخودلوچه داسے عجلت مه کوه۔ بیائے ورته درے ذمه وارئے ذکرکړلے(۱) جمع کول دَ قرآن په سینه دَ نبیﷺ کښ(۲) اولوستل دَ هغے اسانول چه دادَ ژبے سره تعلق لری او(۳) روستودَ لوستلونه دَ هغے تفسیراو وضاحت دَ مقاصدوکول۔ اوپه دریم ایت کښ دویم ادب ئے اوخودلوچه دَجبرئیل دَ لوستلوپه وخت کښ پوره غورِ کیده اوعمل په هغے باندے شروع کړه﴿لَاتُحَرِّكْ بِهٖ لِسَانَكَ﴾ دا نهی دَشفقت دپاره ده ځکه چه نبیﷺ به شونډے اوژبه خوځوله په وخت دَلوستلودَ جبرئیلؑ کښ﴿لِتَعْجَلَ بِهٖ﴾ شربینی ذکرکړے دے چه هرکله تعجیل په قرآن لوستلوکښ منع دے نومعلومه شوه چه په نورو کارونوکښ هم مناسب نه دے ﴿اِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهٗ وَقُرْاٰنَهٗ﴾ مراد دَ جمع نه په سینه کښ راجمع کول

تَذَرُوْنَ الْاٰخِرَةَ ﴿٢١﴾ وُجُوْهٌ يَّوْمَئِذٍ نَّاضِرَةٌ ﴿٢٢﴾ اِلٰى رَبِّهَا نَاظِرَةٌ ﴿٢٣﴾ وَوُجُوْهٌ يَّوْمَئِذٍ بَاسِرَةٌ ﴿٢٤﴾ تَظُنُّ

پریږدئے اخرت لره (٢١) بعضِ مخونه به په دغه ورځ تازه وی (٢٢) خپل رب ته به کتونکی وی (٢٣) او بعضِ مخونه به په دغه ورځ بدرنګه وی (٢٤) ګمان به کوی

دی یعنی دَ هیریدلونه بچ کول لکه په سورة اعلی (٦) کښ دی او دا دلیل دے چه اللّٰه تعالی هرکله دَ دے جمع کولو ذمه وار دے نو دارنګ دَ جمع دَ قرآن په یو مصحف کښ هم ذمه وار دے نو معلومه شوه چه دا قرآن چه اوس مجموع دے داهم په جمع کولو دَ اللّٰه تعالی سره دے اګر چه اللّٰه تعالی دَ دے دَپاره ابوبکرؓ او بیا عثمانؓ سبب اوګرځول ﴿وَقُرْاٰنَهٗ﴾ دلته معنیٰ مصدری مراد ده یعنی لوستل دَ قرآن اوچلول دَ دے ستا په ژبه باندے لکه په سورة مریم (٩٧) اوسورة دخان (٥٨) کښ ذکر دی ﴿فَاِذَا قَرَاْنٰهُ فَاتَّبِعْ قُرْاٰنَهٗ﴾ مراد دَ قَرَاْنَاهُ، نه لوستل دَ جبرئیلؑ دی ځکه چه داکلام دَاللّٰه تعالی دے اوپه اذن دَ اللّٰه تعالی سره جبرئیلؑ لوستلو ﴿فَاتَّبِعْ﴾ مراد دا چه غور ورته کیده بیا ئے اولوله په هغه طریقه چه په تاباندے لوستلے شویدے اواتباع دَ احکامو او شرائعو دَ قرآن کوه ﴿ثُمَّ اِنَّ عَلَيْنَا بَيَانَهٗ﴾ بیان دَ الفاظواودَ معانو دَ قرآن نبیﷺ ته دَطرف دَاللّٰه تعالی نه دے اودَ نبیﷺ طرف نه صحابه کرامونه اوبیا دَهغوی په واسطے سره رفته رفته ټولوخلقوته قرآن رسول دَ اللّٰه تعالی ذمه داری ده۔

تنبیه: ربط دَ دے ایاتونودَ ماقبل اومابعد سره په څووجوهو سره دے یو وجه هغه چه مونږ په خلاصه کښ ذکرکړے ده۔ دویمه وجه دا ده چه دَ هلپوکوپه ورځ دَ قیامت اوجمع دَ نمر اوسپوږمئے باندے اللّٰه تعالی قدرت لری ځکه چه جمع دَ قرآن باندے قادر دے نو په انسان کښ هیڅ هلپوکے او ذره نشی پاتے کیدلے لکه چه په قرآن کریم کښ هیڅ حرف نشی ضائع کیدلے۔ دریمه وجه دا ده چه دَ ورځ دَحساب دَپاره لوئے عمل صالح شغل دَقرآن کریم دے دَ شرعی اداابوسره برابراوهرکله چه دَقرآن نه غافل کوؤنکے څیزدَ دنیا محبت دے دَ دے وجے نه روستو ایاتونو کښ په هغے باندے زجر ورکوی۔

[٢١،٢٠] په دے کښ زجردے په محبت دَ دنیا چه انسان لره دَقران نه غافل کوی ﴿اَلْعَاجِلَةَ﴾ په دے تعبیرکښ اشاره ده چه دَ قرآن او دَ دین دَکارونوسره عجلت مناسب نه دے ځکه چه عجلت دَ دنیا دَ محبت نښه ده۔ اودنیا ته عاجله دَدے وجے نه وئیلے شی چه زرفناکیږی یا عاجل ده په نسبت دَ اخرت سره چه هغه روستودے ﴿وَتَذَرُوْنَ﴾ اشاره ده چه محبت دَ دنیا سبب دے دپاره دَ پریخودلودَ اخرت ځکه چه شریبنی لیکلی دی چه دَ دنیا اودَ اخرت مثال دَ دوه بنو(بنځو) دے دَ دواړو رضاګرانه ده۔

[٢٣،٢٢] دا بشارت دے اهل اخرت دے ﴿وُجُوْهٌ﴾ ئے ذکرکړوځکه دَ نضارت اثر اول په مخ باندے ښکاره کیږی نو دا ذکردَ جزءِ اشرف اومرادترینه کل بدن دے ﴿نَاضِرَةٌ﴾ تازه اوسپین اورنړا والا به وی په دلیل دَ سورة العمران(١٠٦) اوسورة عبس (٣٨) سره ﴿اِلٰى رَبِّهَا﴾ دا تقدیم دَ دے دَپاره دے چه دَ دوی لوئے مقصد صرف دیدار دَ اللّٰه تعالی دے ﴿نَاظِرَةٌ﴾ دَنظر نه دے اوهرکله چه دَ نظر په صله کښ اِلٰی وی نو صرف په معنیٰ دَ کتلوسره وی دَ انتظار په معنیٰ نه دے او دا په ډیرو ایاتونو کښ دے لکه سورة توبه (١٢٧) سورة یونس (٤٣) سورة عبس(٢٤) سورة احزاب (١٩) دلته صله اِلٰی دلیل دے چه دَ ناظرة معنیٰ، دیدن

اَنْ يُّفْعَلَ بِهَا فَاقِرَةٌ ﴿٢٥﴾ كَلَّآ اِذَا بَلَغَتِ التَّرَاقِيَ ﴿٢٦﴾ وَقِيْلَ مَنْ ۜ رَاقٍ ﴿٢٧﴾ وَّظَنَّ اَنَّهُ الْفِرَاقُ ﴿٢٨﴾ وَالْتَفَّتِ
السَّاقُ بِالسَّاقِ ﴿٢٩﴾ اِلٰى رَبِّكَ يَوْمَىِٕذِ ِۨالْمَسَاقُ ﴿٣٠﴾ فَلَا صَدَّقَ وَلَا صَلّٰى ﴿٣١﴾ وَلٰكِنْ كَذَّبَ وَتَوَلّٰى ﴿٣٢﴾

دا چه کیږی به دَ هغے سره افت ملاماتوؤنکے (۲۵) هیڅرے داسے نه ده کوم وخت چه اورسی روح مرئے ته (۲۶) او اُوئیلے شی څوك دے دم اچوؤنکے (۲۷) او ګمان به اوکړی چه یقیناً دا وخت دَ جدا ئیے دے (۲۸) او یوځائے به شی یو پنډئے دَ بلے پنډئے سره (۲۹) ستا رب ته په دغه ورځ ورتلل دی (۳۰) نو تصدیق ئیے نه دے کړے اونه ئیے مونځ کړے دے (۳۱) او لیکن تکذیب ئیے کړیدے او مخ ئیے اړولے دے (۳۲)

کوؤنکے، ده۔ نودا صریح دلیل دے چه په جنت کښ به مؤمنان دَ اللّٰه تعالیٰ دیدار کوی اودارنګ محدثینودَ سورۃ تطفیف (۱۵) نه استدلال کړے دے۔ او ابن کثیر لیکلی دی چه دامسئله په صحیح احادیثو کښ په متواتر طریقو سره ثابت ده چه دَ هغے جواب اوانکار ممکن نه دے او په اخر دَ بحث کښ وئیلی دی چه په دے باندے اجماع دَ صحابه کرامو او تابعینو او سلف صالحینو اوائمودَ اسلام ده۔ او دَ دے مسئلے نه معتزله او اباضیو انکار کړے دے۔

[۲۵،۲۴] دا تخویف اخروی دے ﴿تَظُنُّ﴾ ظن په معنیٰ دَ یقین سره دے لیکن هرکله چه په مخونو باندے اثراوشونو دَ دے نه ورته دا معلومه شوه چه ﴿اَنْ يُّفْعَلَ بِهَا﴾ اوپه علاماتو سره چه کوم څیزمعلومیږی نوپه هغے کښ ظن هم استعمالیږی ﴿فَاقِرَةٌ﴾ په اصل کښ دا دے چه داغ اولګوی په پوزه دَ اوښ باندے په ګرم سیخ سره تردے پورے چه هډوکی ته اورسی او دا دِیر ذلّت لره مستلزم دے دارنګ فاقِرة دَ فقار الظهر نه ماخوذ دے یعنی دَ ملا هډوکے نوفاقرة هغه مصیبت دے چه دَ مَلا هډوکے مات کړی مراد ترینه لوئے عذاب اوهلاکت دے په سبب دَ دخول دَ اور دَ جهنم سره دَ همیشوالی دَپاره۔

[۲۶] داهم تخویف دے په ذکر دَ احوالودَ ځنکدن سره ﴿التَّرَاقِيَ﴾ جمع دَ ترقوة ده اوترقوے دوه دی دَ نحر(دَ مرئے دَ کوتی) نه چاپیره دوه هډوکی دی، اوجمع ذکرکولوکښ مبالغه ده چه دَ مرئے په هر طرف باندے دَساه وتلومصیبت به وی۔

[۲۷] ﴿رَاقٍ﴾ دَ رقیه نه ماخوذ دے رقیٰ یَرقِی، په معنیٰ دَ دم اچولو دے نو قِیلَ نه مراد دا دے چه حاضرین به په وخت دَ ځنکدن کښ دا ویناکوی چه څوك شته چه دم واچوی (په دے ګمان چه دے بیمار دے) یا څوك شته چه سورۃ یٰس اولولی او تلقین اوکړی (په دے خیال چه دے مړ کیږی) یا دَ رقیٰ نه ماخوذ دے رَقِیة یرقیٰ بره ختل یعنی ملائك به کورنئی کښ اووائي چه څوك به دَ دهٗ روح راخیژوی دَ بدن نه مستقر دَ ارواحوته۔

[۲۸] دلته هم ظن په معنیٰ دَ یقین دے او قرینه په هغے روستو اَنَّ دَ تاکید دے ﴿الْفِرَاقُ﴾ جدائی دَ روح دَ بدن نه یا جدائی دَ دُنیا اودَ مال اواهل نه اواولاد نه ده۔

[۳۰،۲۹] داهم حال دَ سختئے دَ ځنکدن دے۔ او ﴿السَّاقُ﴾ په معنیٰ حقیقی سره دے نومراد دا دے چه یو پنډئے بلے پنډئے له راغورځوی دَ وجے دَ سختئے نه یا به دواړه پنډئے په کفن کښ دَ یوبل سره یوځائے کړیشی ﴿اِلٰى رَبِّكَ﴾ دا خطاب دَ ملائکودے په وخت دَ روح راویستلو کښ یاعام خطاب دے انسانانوته چه اخری مرجع رب العالمین طرف ته ده ﴿الْمَسَاقُ﴾ دا مصدر میمی دے په معنیٰ دَ سوق سره۔

ثُمَّ ذَهَبَ اِلٰٓى اَهْلِهٖ يَتَمَطّٰى ﴿٣٣﴾ اَوْلٰى لَكَ فَاَوْلٰى ﴿٣٤﴾ ثُمَّ اَوْلٰى لَكَ فَاَوْلٰى ﴿٣٥﴾ اَيَحْسَبُ الْاِنْسَانُ اَنْ يُّتْرَكَ سُدًى ﴿٣٦﴾ اَلَمْ يَكُ نُطْفَةً مِّنْ مَّنِيٍّ يُّمْنٰى ﴿٣٧﴾ ثُمَّ كَانَ عَلَقَةً فَخَلَقَ فَسَوّٰى ﴿٣٨﴾ فَجَعَلَ مِنْهُ الزَّوْجَيْنِ الذَّكَرَ وَالْاُنْثٰى ﴿٣٩﴾ اَلَيْسَ ذٰلِكَ بِقٰدِرٍ عَلٰٓى اَنْ يُّحْيِۦَ الْمَوْتٰى ﴿٤٠﴾

بیا لاړ خپل کور ته لوئي کوؤنکے (۳۳) تباهی ده تا لره نو تباهی ده (۳٤) بیا تباهی ده تا لره نو تباهی ده (۳۵) ایا ګمان کوی انسان دا چه پریخودلے شی بیکاره (۳٦) ایا نه وؤ دے تڼکره دَ منئے چه اچولے شی په رحم کښ (۳۷) بیا شوه تڼکره دَ وینے نو جوړئے کړو او برابر ئے کړو (۳۸) نو جوړه ئے کړه دَ هغے نه جوړئے نارینه او زنانه (۳۹) ایا نه دے دغه ذات قدرت لرونکے په دے چه ژوندی به کړی تول مړی (٤۰)

[۳۲،۳۱] دا زجردے هغه انسان ته چه دَ دے سورت په(۳)کښ ذکرووپه ځلورامورو سره اول ﴿فَلَا صَدَّقَ﴾یعنی تصدیق دَ رسول اللّٰهﷺ ئے په هیڅ طریقه سره نه دے کړے اودَ دے تعمیم دَپاره مفعول حذف کړے شوے دے اولاپه فعل ماضی کښ په معنیٰ دَ لم سره رائی دویم ﴿وَلَاصَلّٰى﴾ مونځ دَاللّٰه تعالیٰ دپاره نه کوی یعنی توحید نه منی اودارنګ په لاصدق کښ نفی دَایمان ده اوپه لاصلّٰی کښ نفی دَعمل صالح ده۔ دریم﴿وَلٰكِنْ كَذَّبَ﴾ځلورم﴿وَتَوَلّٰى﴾دَ دے فرق دا دے، تکذیب دَقیامت ئے اوکړو او اعراض ئے اوکړو دَ قرآن کریم نه دویم فرق دا دے چه تکذیب ئے په ژبه سره اوکړواواعراض ئے په مخ اوباقی بدن سره اوکړوحاصل داچه دَځلورواصولودَایمان(توحید، رسالت، اخرة، قران)نه خالی دے دارنګ ظاهراً اوباطناً کافردے۔

[۳۳] په دے کښ دَ دهٔ ډیرعناد ذکردے یعنی په دغه ځلورو کفریاتوباندے هیڅ خفګان اوندامت نه بنکاره کوی۔ بلکه الټه تکبر او لوئی کوی﴿اِلٰٓى اَهْلِهٖ﴾ مراد دَ دے نه تابعداران شاګردان مریدان دَ دهٔ دی لکه چه په سورة تطفیف(۳٤) اوسورة انشقاق (۱٤،۱۳)کښ دی﴿يَتَمَطّٰى﴾ په اصل کښ یتمطط دے اوګډیدلوته وئیلے شی یعنی دَ تکبردَ وجے نه خپل ستړ اوخپله ملا اوګډ وی اوخپل قدمونه اوګډه اوګډه اخلی یا دَ مطا نه ماخوذ دے شاه ته وئیلے شی یعنی شاه تا وهی دَ وجے دَ تکبرنه اولاسونه وهی په وخت دَ رفتارکښ۔

[۳۵،۳٤] هرکله چه ځلورګناهونه ئے ذکرکړل نودَهغے په بدله کښ ځلورهلاکتونه ذکرکوی قرطبی دَ ځلورو فرق داسے ذکرکړے چه وَیل(هلاکت) دِ وی تالره په حال دَ ژوندکښ بیا دِ هلاکت وی تالره په حال دَمرګ کښ بیا په ورځ دَبعث کښ بیا په ورځ دَ دخول دَنارکښ﴿اَوْلٰى﴾په معنیٰ دَ وَیل (هلاکت) دے۔ دویمه معنیٰ دا چه اولی په معنیٰ دَ بنه لائق دے۔

[۳٦] دا هم زجردے په انکار دَ حساب اودَ بعث بعد الموت سره او متعلق دے دَ ابتدا دَ سورة سره یعنی اَيَحْسَبُ الْاِنْسَانُ اَنْ لَّنْ نَّجْمَعَ عِظَامَهٗ ﴿سُدًى﴾ مهمل (پریخودلے شوے) چه نه به مکلف کیږی په احکامو الٰهیو سره په دنیا کښ اونه به سوال وجواب وی په قبر کښ اونه به بعث بعد الموت وی اونه به حساب کتاب وی دا خیال ئے غلط دے۔

[۳۹،۳۸،۳۷] دا دلیل دے په اثبات دَ بعث بعد الموت باندے په قیاس کولو سره په اول پیدائش باندے سرهٔ دَ ذکردَ تحقیر دَ انسان منکرنه ﴿الذَّكَرَوَالْاُنْثٰى﴾ دا دواړه نوعے دَ انسان کله په جمع پیدا شی اوکله جدا جدا اوکله داسے وی چه دواړه اوصاف پکښ جمع وی اوهغه خنثیٰ دے ایت هغه ته هم شامل دے۔

سُوْرَةُ الدَّهْرِ (٧٦) مَكِّيَّةٌ (٩٨) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ٣١ رُكُوْعَاتُهَا ٢

هَلْ اَتٰى عَلَى الْاِنْسَانِ حِيْنٌ مِّنَ الدَّهْرِ لَمْ يَكُنْ شَيْئًا مَّذْكُوْرًا ۝١ اِنَّا خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ مِنْ نُّطْفَةٍ اَمْشَاجٍ ۖ

یقیناً راغلے دے په انسان باندے یو وخت دَ زمانے نه چه نه وؤ دے څه څیز یاد کړے شوے (په خاص نوم) (۱) یقیناً پیدا کړو مونږ انسان لره دَ نطفے څخه چه وړے نه

(بقیه تفسیر دَ سورة القیامة) نوذکرته ئے حاجت نیشته لکه چه قرطبی وئیلی دی۔

[٤٠] دا نتیجه دَ مخکښ دلیل ده ﴿ذٰلِكَ﴾ ذات دَ اللّٰه تعالیٰ چه موصوف دے په لویوصفاتوسره اوپه صفت دَخالقیت سره اولاً ﴿بِقَادِرٍ عَلٰٓى اَنْ يُّحْيِۦَ الْمَوْتٰى﴾ بلکه قدرت په دوباره ژوندی کولوباندے ئے مساوی دے دَ اول سره یازیات اسان دے بنا په هغه دوه توجیهاتو باندے چه په سورة روم (۲۷) کښ ذکر دی۔ په حدیث دَ ابوداؤد اواحمد او ابن جریرکښ وارد دی چه نبیﷺ به دَ دے په جواب کښ وئیل سبحانك فبلٰی اوسبحانك وبلٰی او صرف بلٰی اویل حدیث دَ ابوداؤد کښ امر دے په وئیلودَ بلٰی سره نودا وئیل ضروری دی که په مونځ کښ دننه وی اوکه بهر وی۔

سورة الدهر

او دے ته سورة الانسان او سورة الابرار او سورة امشاج او سورة هل اتیٰ هم وئیلے کیږی۔

ربط: دَ دے سورة دَ مخکښ سره په ډیر وجوهوسره دے اوله وجه دا ده دَ هغه سورة په اخرکښ دلیل وؤدَ اثبات دَ بعث دَپاره نودَ دے سورة په اول کښ بعینه هغه دلیل دے دَ بعث دَ اثبات دَپاره اودے ته تشابه الاطراف وئیلے کیږی۔ دویمه وجه دا ده چه مخکښ سورة کښ ادب دَ قرآن ذکرکړے وؤ نوپه دے سورة کښ نعمت دَ قرآن ذکرکوی اوشکریه دَ هغه نعمت هم۔

دعویٰ دَ دے سورة: اثبات دَ بعث بعد الموت دے په قیاس کولوسره په اول پیدائش باندے سرهٗ دَ بشارت تفصیلیه نه چه هغه لس نعمتونه دَ جنت دی۔ اودَ معرفت الٰهیه دپاره ئے څلوراسماء حسنیٰ ذکر کړی دی اللّٰه، رب، علیم، حکیم۔

خلاصه دَدے سورة: دا ده اول ذکرکوی خلق دَ انسان په پنځه حالاتو سره دَپاره دَ استدلال په بعث بعد الموت باندے سرهٗ دَ تخویف اخروی مختصرنه تر(٤) پورے بیا تفصیلی بشارت دے مؤمنانولره چه دَهغوی ئے پنځه صفات ذکرکړی دی تر(۱۰) پورے اولس جزاګانے دَ هغوی ذکردی تر(۲۲) پورے اودَ سورة په آخرکښ ذکردَ نعمت دَ قرآن دے اودَ هغے دَ شکرئیے دپاره پنځه خطابات ذکردی تر(۲٦)پورے اوبیا زجردے په محبت دَ دنیا سره اوترغیب دے قرآن کریم ته په اختتام دَسورة کښ۔

تفسیر

[۲،۱] په دے ایاتونو کښ دَ انسان ابتدائی حال ذکرکوی او مراد ترینه استدلال دے په دوباره ژوندی کولو باندے ﴿حِيْنٌ﴾ دَ ابن عباس رضی اللّٰه عنهما نه روایت دے چه حین اوګډ وخت ته وئیلے شی چه خاص

نَّبْتَلِيْهِ فَجَعَلْنٰهُ سَمِيْعًا بَصِيْرًا ۝٢ اِنَّا هَدَيْنٰهُ السَّبِيْلَ اِمَّا شَاكِرًا وَّاِمَّا كَفُوْرًا ۝٣ اِنَّا اَعْتَدْنَا لِلْكٰفِرِيْنَ سَلٰسِلَا۠ وَاَغْلٰلًا وَّسَعِيْرًا ۝٤ اِنَّ الْاَبْرَارَ يَشْرَبُوْنَ مِنْ كَاْسٍ كَانَ مِزَاجُهَا كَافُوْرًا ۝٥ عَيْنًا يَّشْرَبُ بِهَا عِبَادُ اللّٰهِ يُفَجِّرُوْنَهَا تَفْجِيْرًا ۝٦ يُوْفُوْنَ بِالنَّذْرِ وَيَخَافُوْنَ يَوْمًا كَانَ شَرُّهٗ مُسْتَطِيْرًا ۝٧

اړوؤ را اړوؤ هغه نو جوړ کړو مونږ دَ هغے نه اوریدونکے لیدونکے (۲) یقیناً خودلے ده مونږ دهٔ ته لار یا به وی شکر کوؤنکے او یا به وی نا شکری کوؤنکے (۳) یقیناً تیار کړیدی مونږ کافرانو لره زنځیرونه او طوقونه او اور بل کړے شوے (٤) یقیناً نیکان خلق به څښی دَ پیالو څکو نه چه ګلاون به دَ هغے کافور وی (٥) یوه چینه ده څښی به هغے لره بندګان دَ اللّٰه تعالیٰ چلوی به هغے لره په چلولو سره (٦) پوره کولے دوی منختے او ویره ئے کوله دَ هغه ورځ نه چه دی سختئی دَ هغے خورے ورے (۷)

مقدارئے معلوم نه وی اوبعضِ اهل علمودَ دے تخصیص کړیدے په څلویښت کلونواو اوؤ کلونو او دوه کاله اوشپږمیاشتو اودوه میاشتو پورے لیکن اول قول صحیح دے ﴿مِنَ الدَّهْرِ﴾ دهر ټول وخت دَ دنیا ته وئیلے شی ﴿نُطْفَةٍ اَمْشَاجٍ﴾ یعنی نطفه دَ سړی او دَ زنانه ګډه وډه شوه اودا نطفه دَ مختلف اخلاطو اوطبائعونه جوړه کړے شوے ده او دا دلیل دے چه زنانه ډَپاره هم نطفه شته اوصحیح احادیث هم پدے باندے موجود دی ﴿نَبْتَلِيْهِ﴾ ضمیر انسان ته راجع دے او مراد دَ ابتلاء نه مکلف کول دی په اوامرو اونواهی شرعیو سره یعنی پیدائش دَ انسان ډَپاره دَ ابتلاء دے مهمل نه دے یا ضمیر راجع دے نطفه ته په اعتبار دَ ماء یعنی اړوؤ راړوؤ دهٔ لره حالات مختلفه ته په رحم دَ مورکښ (علقه، مضغه، عظاماً وغیره) ﴿فَجَعَلْنٰهُ سَمِيْعًا بَصِيْرًا﴾ بنا په دویم احتمال سره (چه ضمیر راجع شی نطفه ته) فا دَ تعقیب ډَپاره صحیح ده یعنی روستو دَ دغه انقلاباتونه سمع او بصر ورکړے شول او بنا په اول احتمال باندے علت غایت (چه ابتلاء ده) مقدم ذکر کړے دے اګر چه په اصل کښ روستو دے لیکن مقصد ابتلاء ده او اهم ده۔

[۳] هرکله چه صرف انداموته اوقوت عقلیه ډَهدایت ډَپاره کافی نه دی بلکه هدایت خوبه وحی باندے موقوف دے دَ دے وجے نه په دے آیت کښ اوفرمائیل ﴿اِنَّا هَدَيْنٰهُ السَّبِيْلَ﴾ مراد دَ دے نه هدایت دے په واسطه دَ انبیاء علیهم السلام او کتابونو منزلو سره۔

[٤] دا تخویف اخروی دے ډَپاره دَکفورانسان ﴿سَلٰسِلَا﴾ دا ترقی ده دَ ادنیٰ نه اعلیٰ ته او ﴿اَغْلٰلًا﴾ نه باندے ته ځکه سلاسل عذاب په خپو کښ دے او اغلال په ستو کښ وی اولاس ورسره تړلے شوے وی او دَ سعیر اثر په ټول بدن باندے دے او داسے په سورهٔ غافر (۷۱) کښ هم تیرشویدی۔

[٦،٥] دا بشارت دے شکرکوؤنکو لره نودَ هغوی پنځه اوصاف اولس بشارات ئے ذکرکړیدی۔ ﴿الْاَبْرَارَ﴾ جمع دَ بَرٌّ ده نیکی اواحسان کوؤنکے ډَمخلوق سره۔ اوابرارهغه کسان وی چه هیڅ چاته اذی نه رسوی ﴿مِنْ كَاْسٍ﴾ هغه لوخی نه وئیلے شی چه مشروب پکښ موجود وی خالی لوخی ته کاس نه وئیلے کیږی ﴿كَانَ مِزَاجُهَا﴾ دَعادت دَ دنیا والوپشان چه دَ مشروباتو سره ہل څیزګډه وی ډَپاره دَ زیاتی فائدے اومزے ﴿كَافُوْرًا﴾ دا په برودت (یخ والی) اوخوشبو ئی کښ مشهور دی لیکن دا کافورد دنیا نه دی ځکه چه په هغے کښ بعضِ ضررونه هم شته دے بلکه دا تشبیه ده دَکافور سره په صورت او شکل

وَيُطْعِمُوْنَ الطَّعَامَ عَلٰى حُبِّهٖ مِسْكِيْنًا وَّيَتِيْمًا وَّاَسِيْرًا ۝ اِنَّمَا نُطْعِمُكُمْ لِوَجْهِ اللّٰهِ لَا نُرِيْدُ مِنْكُمْ جَزَآءً وَّلَا شُكُوْرًا ۝ اِنَّا نَخَافُ مِنْ رَّبِّنَا يَوْمًا عَبُوْسًا قَمْطَرِيْرًا ۝ فَوَقٰىهُمُ اللّٰهُ شَرَّ ذٰلِكَ الْيَوْمِ

او خوراك ورکوؤ دوی خوراك په مینه دَ هغه مسکین او یتیم ته او قیدی ته (۸) (وئیل ئے) یقیناً مونږ خوراك درکوؤ تاسوته دَ اللّٰه تعالیٰ په مخ نه غواړو ستاسو نه بدله او نه شکر کول (۹) یقیناً ویره کوؤ دَ رب خپل نه دَ ورځے سختے ډیرے سختے نه (۱۰) نو بچ اوساتل دوی لره اللّٰه تعالیٰ دَ سختئی دَ دغه ورځ نه

کښ او حقیقت ئے روستو ایت کښ ذکر کړیدے ﴿عِبَادُ اللّٰهِ﴾ اضافت دَ عبد اوعباد چه یو نوم دَ اللّٰه تعالیٰ ته اوکړے شی په قرآن کښ نو مراد ترینه هغه خلق دی چه بندگی ئے اللّٰه تعالیٰ لره خاص کړے وی او دَ هرقسم شرك نه ځان بچ ساتی اودغه مؤمنان دی او کله چه اضافت ضمیر ته وی نو کله مؤحد ین مرادوی لکه (ان عبادی لیس لك علیهم سلطان) اوکله عام مراد وی لکه (ولایرضیٰ لعباده الکفر)۔

[۷] په دے کښ دَ ابرارو دوه صفتونه ذکر کوی ﴿يُوْفُوْنَ﴾ دَ دے نه مخکښ کانوا پټ دے ﴿بِالنَّذْرِ﴾ نذرشرعی دے ته وئیلے شی چه مکلف شخص په ځان باندے دَطاعاتو دَ اللّٰه تعالیٰ دَپاره داسے ځیزلازم کړی که دهٔ نه وے لازم کړے نوپه دهٔ باندے نه واجبیدلو اونذرغیرشرعی هغه دے چه دَ غیراللّٰه دَپاره وی یا نذردَګناه وی اوپه دے ایت کښ دَ نذرنه عامه معنیٰ مراد ده یعنی هرهغه ځیزچه دَ هغے وفا په بنده باندے واجب وی عقود، عهود، مونځ، زکوٰة، صوم، حج، عمره وغیره ﴿وَيَخَافُوْنَ يَوْماً﴾ په اول وصف کښ امتثال دَ اوامروته اشاره وه نوپه دے وصف کښ اجتناب دَ منهیاتو مراد دے یعنی دَ قیامت دَ ویرے دَ وجے نه ځان دَګناهونونه بچ ساتی ﴿شَرُّهٗ مُسْتَطِيْرًا﴾ مراد دَ شرنه هغه سختی ده چه په ورځ دَقیامت کښ واقع کیږی اسمانونه چودل ستوری خړکیدل، زمکه باندے زلزله راتلل، غرونه فناکیدل وغیره ﴿مُسْتَطِيْراً﴾ اوګد اوخور اوعام دے ټول عالم ته وئیلے شی۔

[۸] دا بل صفت دَ ابرار دے مخکښ ذکر دَ حقوق اللّٰه وؤ او دا ذکر دَ حقوق العباد دے۔

[۹] ﴿لَانُرِيْدُ﴾ په دے کښ مقصد اظهار دَ اخلاص او وسعت راوستل دی په طبیعت دَ محتاج باندے یعنی په سبب دَ دے ویناسره هغه محتاج شخص به طعام بنه په ازادئے سره قبلوی ﴿شُكُوْرًا﴾ په دے کښ ثنا او دعا هم داخل ده چه صاحب طعام ئے دَ محتاج نه غواړی ځکه په دے سره ثواب کښ نقصان راځی۔

[۱۰] دا دَ ابرار بل صفت دے ﴿اِنَّا نَخَافُ مِنْ رَّبِّنَا﴾ مخکښ خوف صرف دَ ورځ دَ قیامت نه وؤاو دا خوف دَ اللّٰه تعالیٰ نه دے دپاره دَ دے چه هیبتونودَ قیامت نه ئے بچ اوساتی په خپل رحم وکرم سره ﴿يَوْماً عَبُوْساً قَمْطَرِيْرًا﴾ عَبُوس شونلے چور ړے کوؤنکے مخونو لره خړکوؤنکے، تنګه یعنی سخته۔ قَمْطَرِيْرًا: اوګده، سخته، تندے او روزولره چورړے تندے کوی۔

وَلَقّٰىهُمْ نَضْرَةً وَّسُرُوْرًا ﴿١١﴾ وَجَزٰىهُمْ بِمَا صَبَرُوْا جَنَّةً وَّحَرِيْرًا ﴿١٢﴾ مُّتَّكِـِٕيْنَ فِيْهَا عَلَى الْاَرَآئِكِ ۚ
لَا يَرَوْنَ فِيْهَا شَمْسًا وَّلَا زَمْهَرِيْرًا ﴿١٣﴾ وَدَانِيَةً عَلَيْهِمْ ظِلٰلُهَا وَذُلِّلَتْ قُطُوْفُهَا تَذْلِيْلًا ﴿١٤﴾
وَيُطَافُ عَلَيْهِمْ بِاٰنِيَةٍ مِّنْ فِضَّةٍ وَّاَكْوَابٍ كَانَتْ قَوَارِيْرَا ﴿١٥﴾ قَوَارِيْرَا مِنْ فِضَّةٍ قَدَّرُوْهَا
تَقْدِيْرًا ﴿١٦﴾ وَيُسْقَوْنَ فِيْهَا كَاْسًا كَانَ مِزَاجُهَا زَنْجَبِيْلًا ﴿١٧﴾ عَيْنًا فِيْهَا تُسَمّٰى سَلْسَبِيْلًا ﴿١٨﴾ وَ

او ورئیے کړه دوی ته تازګی او خوشحالی (۱۱) او بدله ئیے ورکړه دوی ته په سبب دَ صبر دَ دوی جنت او ریبنم (۱۲) تکیه به وهی په هغے کښ په پالنګونو باندے نه به وینی په هغے کښ ګرمی او نه یخنی (۱۳) او راکاړه به وی په دوی باندے سوری دَ هغے او راکوز شوی به وی غونچکونه دَ هغے په راکوځیدلو (۱٤) او ګرځولے به شی په دوی باندے لوخی دَ سپینو زرو او ګلاسونه چه وی به شیشه (۱۵) شیشه جوړه شوے دَ سپینو زرونه اندازه کړے به ئیے وی هغه په خاص اندازه (۱٦) اوڅښولے به شی په دوی باندے په هغے کښ ډکے پیالئ چه وی به ګلهون دَ هغے زنجبیل (ادرك) (۱۷) چینه ده په هغے کښ نوم ورته وئیلے شی سلسبیل (۱۸) او

[۱۱] دَ دے ایت نه تفصیل دَبشارت شوروشو ﴿لَقّٰىهُمْ نَضْرَةً﴾ تازګی، رنړاپه مخونوکښ دا نعمت ظاهری دے ﴿وَسُرُوْرًا﴾ خوشحالی په زړه کښ دا نعمت باطنیه دے۔ خوشحالی دَ زړه سبب دے دَ تازګئے دَ مخ لیکن دلته ئیے دَ مخ تازګی مقدم کړه ځکه چه هغه زر اوهرچاته معلومیږی او دا په بدله دَ خوف او دَ محنت دَ دوی په ژوند دَ دنیا کښ ده ۔

[۱۲] ﴿بِمَا صَبَرُوْا﴾ یعنی صبرئے کړے دے په مخکښ ذکرکړے شوے صفاتوباندے اودے صبرته ثبات علی الدین وئیلے کیږی

[۱۳] ﴿شَمْسًا وَّلَا زَمْهَرِيْرًا﴾ مراد دَ دے نه ګرمی او ډیره یخنی ده او دا دواړه حالات پکښ نیشته یا زمهریر سپوګمئے ته وئیلے شی نو مراد دَ دے نه ورځ او شپه راتلل دی یعنی یو رنړا به همیشه وی نه به بدلیږی پشان دَ شپے او ورځے دَ دنیا۔

[۱٤] ﴿ظِلٰلُهَا﴾ سورے په جنت کښ دَ نمر دَ وجے نه نه دے بلکه داسے سورے چه په دنیا کښ صبا ختلونه روستو دَ نمر خاته پورے وی او ها ضمیر اونوته راجع دے ﴿وَذُلِّلَتْ قُطُوْفُهَا﴾ یعنی په حالت دَ ولاړے او ناستے او ملاستے کښ به دَ دهٔ په اشاره پسے را روان وی او ازغی اولړے والے به مانع نه وی۔

[۱٦،۱۵] دا دَ خوراك ځښاك حالات ذکرکوی ﴿وَيُطَافُ﴾ مجهول صیغے سره اشاره ده چه خادمان به ډیر قسمونه وی غِلمان او وِلدان اوحورے وغیره ﴿بِاٰنِيَةٍ﴾ دا جمع دَ اناء ده او دَ دے جمع بیا اوانی رائی۔ ﴿مِنْ فِضَّةٍ﴾ دا یوقسم دَ جنت دے چه په هغے کښ به هرځیز دَ سپینو زرونه جوړ وی او بل قسم جنت هغه دے چه دَ هغے نعمتونه دَ سروزرونه جوړدی لکه زخرف (۷۱) کښ دی ﴿وَاَكْوَابٍ﴾ کوب داسے لوخی دَځښلوته وئیلے شی چه کړئے اوسنت ئیے نه وی لکه پشان دَ ګلاسونو ﴿كَانَتْ قَوَارِيْرَا﴾ یعنی صفائی او شفافت کښ پشان دَ شیشے دی قارورهٔ هغه لوخی ته وئیلے شی چه دَ شیشے نه جوړوی اوپه هغے کښ اوبه اوخوراك قرارے نیسی او مراد دَ دے نه دلته شیشے دی ﴿قَوَارِيْرَا مِنْ فِضَّةٍ﴾ په دے کښ جواب دَ وهم دے

يَطُوْفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَانٌ مُّخَلَّدُوْنَ ۚ اِذَا رَاَيْتَهُمْ حَسِبْتَهُمْ لُؤْلُؤًا مَّنْثُوْرًا ﴿١٩﴾ وَاِذَا رَاَيْتَ ثَمَّ رَاَيْتَ
نَعِيْمًا وَّمُلْكًا كَبِيْرًا ﴿٢٠﴾ عٰلِيَهُمْ ثِيَابُ سُنْدُسٍ خُضْرٌ وَّاِسْتَبْرَقٌ ۫ وَّحُلُّوْٓا اَسَاوِرَ مِنْ فِضَّةٍ ۚ
وَسَقٰىهُمْ رَبُّهُمْ شَرَابًا طَهُوْرًا ﴿٢١﴾ اِنَّ هٰذَا كَانَ لَكُمْ جَزَآءً وَّكَانَ سَعْيُكُمْ مَّشْكُوْرًا ﴿٢٢﴾ ع اِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا

ډیر به ځی رائحی دَ دوی خدمت لره هلکان همیشه به وی کله چه ته او وینے هغوی ګمان به اوکړے په هغوی باندے ملغلرے خورے ورے (۱۹) او کله چه ته او وینے هغه ځائے نو اوبه وینے نعمتونه او بادشاهی لویه (۲۰) بره طرف دَ دوی به جامے دَ نرو ریښمو شنو وی اوغټ ریښم (به لاندے وی) او اچولے کیږی به دوی ته بنګړی دَ سپینو زرو او ځښنوی به دوی ته رب دَ دوی دَ ځښلو ځیز پا کوؤنکے (۲۱) یقیناً دا ده تاسو لره بدله او دے عمل (کوشش) ستاسو قبول کړے شوے (۲۲) یقیناً مونږ یو نازل کړیدے مونږ

چه دا شیشے دی نو بیا خوبه زرما تیږی اوبل داچه دَ شیشے په اصل کښ توروالے دے؟ حاصل جواب دادے چه دَ دے اصل دَ سپینو زرونه دے نو توروالے پکښ نیشته اګر چه صفائی او شفافت ئیے دَ شیشے پشان دے یعنی دوه صفتونه متضاد پکښ په قدرت دَ اللّٰه تعالیٰ سره جمع شویدی ﴿قَدَّرُوْهَا تَقْدِيْرًا﴾ مراد دَ تقدیر نه دا دے چه نه به دَ دوی نه زیاتی کیږی اونه به کمیږی اونه هغه لوخی ډیردرانهٔ دی اونه ډیرسپك دی په مقدار دَ ارادے دَ دوی او دَ مورِوالی دَ دوی به وی۔

[۱۸،۱۷] مخکښ دَ طعام لوخی ذکرشول اوس دَ ځښلو نعمت ذکرکوی ﴿زَنْجَبِيْلًا﴾ په اصل کښ ادرك (سونډ) ته وئیلے کیږی او دا په طبیعت کښ ګرم دی لکه چه کافور طبعاً یخ دی یعنی لکه چه په دنیا کښ په مشروباتو کښ کله کافور او زنجبیل استعمالیږی نو په جنت کښ به هم داسے وی اګرچه کافور او زنجبیل چینے دی په جنت کښ اوبے شماره فائدے اوډیر لذتونه پکښ دی ﴿سَلْسَبِيْلًا﴾ هغه مشروب چه په مرئے کښ په اسانه سره تیریږی دَ وجے دَ خائسته خوند دَ هغے نه او دَ ډیرلذت نه اودَ پوره صفا ئی دَ هغے نه۔

[۱۹] دَ مطعومات اومشروباتودَ نعمتونو دَ ذکرنه روستودَ خدمتګارانوذکرکوی ﴿يَطُوْفُ﴾ یعنی خادمان په عمر دَ عدم بلوغ کښ تعبیر ئیے په ولدان سره دَ دے وجے نه دے چه جنتیانوته به داسے محبوب وی لکه اولاد دَ هغوی صرف خدمت کول به مقصدنه وی ﴿مُخَلَّدُوْنَ﴾ تبدیلی اومرضونه، بوډاوالے اوفنابه وربانډے نه رائحی ﴿لُؤْلُؤًا مَّنْثُوْرًا﴾ تشبیه ده په حسن او صفائے او ډیروالی او خواره واره کیدلو دَ خدمت دَپاره په جنت کښ۔

[۲۱،۲۰] دَ خاص تفصیلی نعمتونونه روستواجمالی اوعام نعمتونوته اشاره کوی چه دَ هغے شمار مخلوق ته معلوم نه دے دَ دے وجے نه نعیماً ئیے نکره ذکرکړیده ﴿مِنْ فِضَّةٍ﴾ او سورة فاطر(۳۳) او سورة حج(۲۳) کښ ئیے ذهب ذکر کړیدی په اعتبار دَ تقسیم دَ جنتیانو سره دوه قسمونوته ذهب دپاره دَ مقربون اوفضة دپاره دَ ابرارو یا داچه دَ دوی لاسونوته به دواړه قسمونه اساور اغوستلے شوی وی ذهب اوفضة دواړه یا ذهب به دَپاره دَ زنانووی او فضة به دپاره دَ نارینووی یا به ذهب دَپاره دَ جنتیانووی اوفضة به دَ ولدانو دَپاره وی ﴿طَهُوْرًا﴾ نجس به نه وی پشان دَ شرابو دَ دنیا او دَ خیرو نه به هم پاك وی او دَ دے

عَلَيْكَ الْقُرْاٰنَ تَنْزِيْلًا ﴿۲۳﴾ فَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ وَلَا تُطِعْ مِنْهُمْ اٰثِمًا اَوْ كَفُوْرًا ﴿۲۴﴾ وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ
بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا ﴿۲۵﴾ وَمِنَ الَّيْلِ فَاسْجُدْ لَهٗ وَسَبِّحْهُ لَيْلًا طَوِيْلًا ﴿۲۶﴾ اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ يُحِبُّوْنَ الْعَاجِلَةَ وَ

په تا باندے قرآن لږلږ نازلول (۲۳) نو صبر کوه فیصله دَ رب ستا ته اومه منه خبره دَ دوی نه دَ ګنهګار یا کفر کوؤنکی (۲۴) او یا دوه نوم دَ رب ستا صبا او بیګاه (۲۵) او دَ شپے نه سجده کوه هغه ته او پاکی وایه دَ هغه دَ شپے اوږدے پورے (۲۶) یقیناً دا هغه کسان دی چه مینه کوی دَ دنیا سره او

نه به لوئے بول او واړه بول نه جوړیږی۔

[۲۲] ﴿مَشْكُوْرًا﴾ شکر دَ اعمالو دَ طرف دَ اللّٰه تعالیٰ نه قبولیت دَ هغے دے او په هغے باندے ستائنه کول دی ﴿وَكَانَ﴾ واؤ دَپاره دَ علت دَ ماقبل دے (کان لکم جزاءً) یا دا اشاره ده زیادت دَ جزاء ته وخت په وخت۔

[۲۳] په دے ایت کښ ذکر دَ صدق دَ قرآن دے ربط ئے دَ محکښ ایاتونو سره دا دے چه هرکله احوال دَ قیامت ذکرشول نواوس ذکرکوی چه دا تفصیلات حاصلیږی دَ قرآن نه چه دَ اللّٰه تعالیٰ دَطرف نه حق نازل کړے شوے کتاب دے اوپه دے کښ تسلّی هم ده نبی ﷺ ته چه دَ دے حق کتاب په رسولو کښ به تکلیفونه راځی دَ هغے برداشت به کوے ﴿تَنْزِيْلًا﴾ په دے کښ اشاره ده چه دَ قیامت حالات په قرآن کښ لږلږ په جدا جدا سورتونو کښ ذکرکیږی دَپاره دَ تذکیر۔

[۲۴] په دے ایت کښ پنځه اوامراویونهی ذکرکوی دَپاره دَ دعوت کوؤنکی په مقابله دشمنانودَ دین کښ۔ اول صبر (په دین حق باندے کلك اوسیدل او انتظارکول دَ حکم دَ اللّٰه تعالیٰ چه امداد او فتح ده) دویم دَ مخالفینو دَ اطاعت نه ځان ساتل ﴿اٰثِمًا﴾ منافق یا هغه چه کارونه دَ ګناه کوی ﴿اَوْ كَفُوْرًا﴾ بنکاره کافر اومشرك او هغه چه زړه کښ کفر ساتی داسے کسان دَ قرآن نه منع کول کوی شرك او مداهنت ته بلنه کوی نو دَ دوی خبره به نه منئے۔

[۲۵،۲۶] په دے کښ درے اوامر ذکردی دَپاره دَ تثبت په حق باندے هرکله چه دَ اثم او کفورنه مخالفت اوکړے شی۔ نودَ هغوی دَشرنه دَبچ کیدلودپاره داعلاج دے یعنی ذکر، تسبیح اوسجده کول ﴿وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ﴾ په دے کښ اوقاتودَ مونځونوته اشاره ده ﴿بُكْرَةً﴾ دَ صبا مونځ ﴿اَصِيْلًا﴾ دَ ظهراوعصرمونځ ﴿وَمِنَ الَّيْلِ﴾ دَ مابنام ماسخوتن مونځ ﴿وَسَبِّحْهُ لَيْلًا طَوِيْلًا﴾ دَ تهجد مونځ او مونځ کول ذکردَ اللّٰه تعالیٰ اوتسبیح باندے مشتمل دے یا مراد دَ ذکرنه عام دے په مونځ کښ دننه وی او که بهروی اوپه هروخت کښ یا اللّٰه اویا رحمٰن اونور نومونه دَ اللّٰه تعالیٰ یادول او په مصیبت کښ اللّٰه تعالیٰ ته رامدد شه وئیل اودَ اللّٰه تعالیٰ نه هروخت دُعا غوښتل دا ټول په واذکراسم ربك کښ داخل دی۔ او بُكْرَةً وَّ اَصِيْلًا ذکردَ دوه طرفونو دَ ورځے دے اومراد ترینه ټول اوقات دَ ورځے دی ﴿وَمِنَ الَّيْلِ﴾ حرف دَ مِنْ کښ اشاره ده چه ټوله شپه مونځ اوذکرنیشته بلکه په څه حصّه دَ شپه کښ خوب کول هم شته دے ﴿وَسَبِّحْهُ﴾ مراد دَ دے نه په سجده کښ تسبیح وئیل دی یا عام دے۔

يَذَرُوْنَ وَرَآءَهُمْ يَوْمًا ثَقِيْلًا ﴿٢٧﴾ نَحْنُ خَلَقْنٰهُمْ وَشَدَدْنَآ اَسْرَهُمْ ۚ وَاِذَا شِئْنَا بَدَّلْنَآ اَمْثَالَهُمْ
تَبْدِيْلًا ﴿٢٨﴾ اِنَّ هٰذِهٖ تَذْكِرَةٌ ۚ فَمَنْ شَآءَ اتَّخَذَ اِلٰى رَبِّهٖ سَبِيْلًا ﴿٢٩﴾ وَمَا تَشَآءُوْنَ اِلَّآ اَنْ
يَّشَآءَ اللّٰهُ ۭ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ﴿٣٠﴾ يُّدْخِلُ مَنْ يَّشَآءُ فِيْ رَحْمَتِهٖ ۭ وَالظّٰلِمِيْنَ
اَعَدَّ لَهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿٣١﴾ ع ٢

پریږدی روستو دَ ځان نه ورځ درنه (۲۷) مونږ پیدا کړیدی دوی او کلك کړیدی مونږ بندونه دَ دوی او هر کله چه اوغواړو مونږ نو بدل به راولو دَ دوی پشان بدل راوړل (۲۸) یقیناً دا نصیحت دے نو څوك چه غواړی او دے نیسی خپل رب ته لار (۲۹) او نه شئ غوختے تاسو څه څیز مګر چه اوغواړی الله تعالی یقیناً الله تعالی دے پوهه حکمتونو والا (۳۰) داخلوی هغه چا لره چه اوغواړی ئیے په رحمت خپل کښ او ظالمان چه دی تیار کړیدے دوی لره عذاب درد ناك (۳۱)

[۲۷] زجر ورکوی محبت کوؤنکی دَ دنیا سره ته او دَ هغے دَ وجے دَ الله تعالی دَ ذکر او دَ اخرت نه غفلت کوؤنکی ته۔

[۲۸] دا دلیل دے په اثبات دَ قیامت پشان دَ ابتدا دَ سورة او زجرهم دے دنیا پرستو خلقوته ﴿اَسْرَهُمْ﴾ دا دَ اسارنه ماخوذ دے هغه مزی ته وئیلے شی چه په هغے سره دَ اوښ پالان تړلے شی۔ اسیر (قیدی) هم دَ دے نه اخستلے شویدے۔ او (اَسْرَ) نه مراد اندامونه اوپیوندونه دَ یوبل سره یوځائے کول اوپه پَلوسره تړل۔ ﴿اَمْثَالَهُمْ﴾ یعنی دوی به هلاك کړو اودَ دوی په ځائے به نور انسانان پیداکړو چه هغوی به تابعداری کوؤنکی وی۔ یا داچه دَ دوی شکلونه به مسخ کړے شی ناکاره شکلونوته۔

[۲۹] دا پشان دَ سورة مزمل (۱۹) دے نو هلته اشاره ده تذکره دَ ادابو دَ دعوت ته سرهٗ دَ یاداشت دَ عذاب دنیوی نه اودلته اشاره ده اثبات دَ قیامت اواحوالو دَ هغے ته سرهٗ دَ ادابودَ دعوت نه۔

[۳۱،۳۰] ﴿فَمَنْ شَآءَ او وَمَا تَشَآءُوْنَ﴾ دلیل دے چه دَ انسان مشیت هم شته دے مجبورمحض نه دےاو ﴿اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ﴾ اشاره ده چه انسان سره قدرت مستقله پخپل کارونو کښ نیشته دے نوپدیکښ رد دے په جبریة اوقدریة دواړو ډلوباندے۔

سُوْرَةُ الْمُرْسَلٰتِ (۷۷) مَكِّيَّةٌ (۳۳) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۵۰ رُكُوْعَاتُهَا ۲

وَالْمُرْسَلٰتِ عُرْفًا ۝۱ فَالْعٰصِفٰتِ عَصْفًا ۝۲ وَّالنّٰشِرٰتِ نَشْرًا ۝۳ فَالْفٰرِقٰتِ فَرْقًا ۝۴

قسم دے په هغه هواګانو چه چلولے شی نرمے (پرله پسے) (۱) نو هغه هواګانے چه ماتول کوی ما تول (۲) او هغه چه خوروں کوی خوروں (۳) نوجدا کوؤنکی جدا کول (٤)

سورة المرسلات

او دَ دے بل نوم سورة العرف دے۔

ربط: دَ دے سورة دَ ماقبل سره په دوه وجوهوسره دے۔ اوله وجه دا ده چه په مخکښ سورة کښ زجروؤپه منکرینوباندے لږلږنوپه دے سورة کښ زجرئیے په لفظ دَ وَیل سره لس کرته ذکرکړے دے۔ دویمه وجه دا ده چه په مخکښ سورة کښ اثبات دَ بعث بعد الموت وؤ په یو دلیل سره نو په دے سورة کښ دَ هغے اثبات ذکر کوی په شواهدو او ډیرو عقلی دلیلونوسره۔

دعویٰ دَ سورة : اثبات دَ ورځ دَ جزا دے په شواهدو او دلیلونو سره او دعویٰ په (۷) کښ ده په دے سورة کښ اسماء حسنیٰ نیشته لیکن صفات فعلیه دَ اللّٰه تعالیٰ یوولس ذکردی۔

خلاصه دَ سورة دا ده: اوّلاً پنځه شواهد دی دَپاره دَ دعوے دَ سورة تر(۷) پورے بیا څلور احوال دَ وخت دَ فنا دَ عالم دی تر (۱۱)پورے بیا تخویف اخروی په ذکر دَ یوم الفصل او دَ هغے هیبتونه تر (۱۵) پورے بیا ذکر دَ تخویف دنیوی دے تر (۱۹) پورے۔ بیا ئے ذکرکړیدی درے دلیلونه عقلیه سرهٔ دَ زجرنه منکرینوته تر(۲۸)پورے بیا تخویف اخروی دے په ذکر دَلس حالاتو دَ اور او دَ ورځ دَ فصل تر(٤۰) پورے بیا بشارت دے متقینوته په ذکر دَ اوو حالاتو تر(٤٤) پورے او په اخرکښ درے زواجردی اول زجر تنعم دَدنیا سرهٔ دَجرمونونه په (٤٦) کښ دویم زجر په اعراض کولو سره دَ عمل دَ توحید نه په (٤۸) کښ دریم زجر په اعراض کولو سره دَ قرآن نه په (۵۰) کښ۔

تفسیر

[۱] دَ اکثر مفسرینو قول دادے چه مراد دَ دے او دَ مابعد نه هواګانے دی۔ بل قول دا چه مراد دَ دے نه ملائك دی بل قول دا دے چه رسولان علیهم السلام مراد دی او موصوف محذوف دے یعنی والنفوس المرسلات۔ اوبل احتمال دا دے چه مراد دَ دے نه اٰیاتونه او سورتونه دَ قرآن دی ﴿وَالْمُرْسَلٰتِ﴾ دا صفت په ماقبل څلورو څیزونو کښ شته دے یعنی رالیږلے شویدی دَ طرف دَ اللّٰه تعالیٰ نه﴿عُرْفًا﴾ دا په معنیٰ دَ معروف سره دے یعنی اوامر او نواهی دَ اللّٰه تعالیٰ یا په معنیٰ دَ متتابع(پرله پسے)دے۔

[۲] دا صفت هم په دغه څلورو امورو کښ موجودیږی ځکه عاصفات دَ عصف نه دے په معنیٰ دَ هلاکولو او ماتولو سره نو بعضِ تیزے هواګانے اونو لره ماتوی ملائك هم کافرانو لره هلاکوی رسولان هم دلیلونه دَ اهلِ باطل ماتوی اٰیاتونه هم دَ مشرکانو حجتونه باطلوی او هلاکوی۔

[۳] دا صفت هم پدغه ټولوامورو کښ شته دے۔ یعنی هواګانے خورَوی وریځو لره اوملائك هم خورَوی

فَالْمُلْقِيٰتِ ذِكْرًا ۝٥ عُذْرًا اَوْ نُذْرًا ۝٦ اِنَّمَا تُوْعَدُوْنَ لَوَاقِعٌ ۝٧ فَاِذَا النُّجُوْمُ طُمِسَتْ ۝٨
وَاِذَا السَّمَآءُ فُرِجَتْ ۝٩ وَاِذَا الْجِبَالُ نُسِفَتْ ۝١٠ وَاِذَا الرُّسُلُ اُقِّتَتْ ۝١١ لِاَيِّ يَوْمٍ اُجِّلَتْ ۝١٢
لِيَوْمِ الْفَصْلِ ۝١٣ وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا يَوْمُ الْفَصْلِ ۝١٤ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ۝١٥ اَلَمْ نُهْلِكِ الْاَوَّلِيْنَ ۝١٦

نو را غورځوونکی دَ وحی (٥) دپاره دَ عذر او دپاره دَ ویرولو (٦) یقیناً هغه چه وعده ئے کیدیشی تاسو سره خامخا واقع کیدونکے دے (٧) نو هر کله چه ستوری بے نوره شی (٨) او هر کله چه اسمان کولاؤ کړیشی (٩) او هر کله چه غرونه والوځولے شی (١٠) او هر کله چه دَ رسولانو وخت پوره کړیشی (١١) کومے ورځے ته روستو کړے شویدی (١٢) ورځ دَ فیصلے ته (١٣) او څه پوهه درکړے ده تاته چه څه ده ورځ دَ فیصلے (١٤) تباهی ده په دغه ورځ تکذیب کوؤنکو لره (١٥) ایانه دی هلاك کړی مونږ مخکنی خلق (١٦)

وریځے او بارانونه او رحمتونه دَ اللّٰه تعالیٰ او رسولان او ایاتونه دَ اللّٰه تعالیٰ په دعوت سره نشرو اشاعت دَ دین حق کوی۔

[٤] هواګانے وریځولره دَ یوبل نه جدا کوی ملائك او رسولان او ایاتونه دَ حق او باطل په مینځ کښ فرق راولی۔

[٥] ملائك او رسولان او ایاتونه دَ اللّٰه تعالیٰ وحی (احکام) پیش کوی او هواګانے باران راغورځوی او دَ ذکر اطلاق په باران باندے هم کیدے شی ځکه چه په هغے سره ذکردَ رحمت دَ اللّٰه تعالیٰ بعضِ انسانانوته اوکړیشی۔

[٦] یعنی وحی رالیږلو کښ مقصد عذر دفع کول دَ خلقو او ویره ورکول دی او چه ذکر په معنیٰ دَ باران شی نوپه باران سره دَ خلقونه عذر(دَ سوکړے او دَ قحط) زائله شی او دَ چا دَپاره سبب دَ انذار اوګرځی۔

[٧] دا جواب قسم دے ﴿اِنَّمَا تُوْعَدُوْنَ﴾ مراد دَ دے نه ټول هغه احوال دی چه قرآن او سنت کښ دَ قیامت په باره کښ دَ هغے وعده کړیشویده نفخ فی الصور،بعث دَ بدنونو، جمع کول دَ ټول مخلوق، تقسیم دَ عملنامو، حساب کول هرچا لره جزا ورکول دَ خیر اوشر، وزن دَ عملونو، احوال دَ جهنم، احوال دَ جنت وغیره داټول مراد دی۔

[٨،٩،١٠،١١] دا تفصیل دَ بعضِ ماتوعدون دے چه دا ځلورلوئے لوئے امور دی او دارنګ په دیکښ وخت دَ وقوع دَ ماتوعدون ذکرکوی ﴿اُقِّتَتْ﴾ په اصل کښ وقتت دے دَ وقت نه ماخوذ دے یعنی په وقت مقرر کښ به رسولان راجمع کړے شی لکه په سورة مائده (١٠٩) کښ دی اوپه دیکښ معنیٰ دَ تاخیر وی وقت مقرره ته دَ دے وجے نه روستو استفهام دَ تاجیل ذکرکوی۔

[١٢،١٣] په دے کښ یُقالُ پټ دے ﴿لِاَيِّ يَوْمٍ﴾ دا استفهام دپاره دَ عظمت اوهیبت دَ هغے ورځے دے۔ ﴿اُجِّلَتْ﴾ ضمیر رسولانوته راجع دے یاتیر شوی ټول احوالوته راجع دے ﴿لِيَوْمِ الْفَصْلِ﴾ اودا نوم دے دَ نومونودَ قیامت نه ځکه چه په دغه ورځ به جدائي راشی دَ مخلوق دَ یوبل نه او فیصلے به اوکړے شی۔

ثُمَّ نُتْبِعُهُمُ الْاٰخِرِيْنَ ﴿١٧﴾ كَذٰلِكَ نَفْعَلُ بِالْمُجْرِمِيْنَ ﴿١٨﴾ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿١٩﴾
اَلَمْ نَخْلُقْكُّمْ مِّنْ مَّآءٍ مَّهِيْنٍ ﴿٢٠﴾ فَجَعَلْنٰهُ فِيْ قَرَارٍ مَّكِيْنٍ ﴿٢١﴾ اِلٰى قَدَرٍ مَّعْلُوْمٍ ﴿٢٢﴾ فَقَدَرْنَا ۖ
فَنِعْمَ الْقٰدِرُوْنَ ﴿٢٣﴾ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿٢٤﴾ اَلَمْ نَجْعَلِ الْاَرْضَ كِفَاتًا ﴿٢٥﴾ اَحْيَآءً وَّاَمْوَاتًا ﴿٢٦﴾

بیا به راولو دوی پسے روستو خلق (۱۷) دَ غسے کار کوؤ مونږ دَ مجرمانو سره (۱۸) تباهی ده په دغه ورځ تکذیب کوؤنکو لره (۱۹) ایا مونږ نه ئے پیدا کړی تاسو دَ اوبو سپکو نه (۲۰) نو حصارے کړیدی مونږه هغه په ځائے دَ قراری مضبوط کښ (۲۱) تر نیتے مقرر پورے (۲۲) نو قدرت لرو مونږ نو ښه قدرت لرونکی یو (۲۳) تباهی ده په دغه ورځ تکذیب کوؤنکولره (۲٤) ایانه ده ګرځولے مونږه زمکه راغونډوؤنکے (۲۵) ژوندو لره او مړو لره (۲٦)

[۱۵] دا ایت ئے په دے سورۃ کښ لس کرته راوړے دے ځکه چه حق ځیزونه ډیردی او دَهریوتکذیب مستقل سبب دَ وَیل دے نو دَ هغه حق ځیرونونه ئے لس ذکر کړیدی اول په دے ایت کښ تکذیب دَ یوم الفصل مراد دے۔

[۱٦،۱۷،۱۸] دا تخویف دنیوی دے مکذبینو لره ﴿الْاَوَّلِيْنَ﴾ لکه قوم دَ نوح علیه السلام اوعادیان، ثمودیان، قوم دَ صالح علیه السلام قوم دَ لوط علیه السلام، اصحاب مدین، قوم تبّع، قوم فرعون چه دا په قرآن کښ ذکردی۔ ﴿الْاٰخِرِيْنَ﴾ دَ دے نه مراد مشرکین مکّه او دَ روستو زمانے منکرین دی ځکه چه دوی ټول په تکذیب کښ شریك دی نو په جزاء کښ به هم شریك وی۔

[۱۹] دلته دَ مکذبین نه هغه خلق مراد دی چه قصے او واقعات دَ هلاکت دَ مخکنو مجرمانونه منی او دَ روستو مجرمانو دَ تخویفاتو تصدیق نه کوی کوم چه مخکښ درے ایاتونو کښ ذکر شول۔

[۲۰،۲۱،۲۲] دا دلیل عقلی نفسی دے دَ اول پیدائش دَ انسان، دَ اثبات دَ بعث بعد الموت دَپاره ﴿مَّآءٍ مَّهِيْنٍ﴾ دا نطفه ده چه کمزورے اوبه دی اوسپکے دی یعنی نفرت ترینه کیدیشی برابره خبره ده که پاکه وی او که پلیته وی دَ دے نه دَ پلیت والی دَ منی استدلال نشی کیدلے۔ اومراد دَ مآءٍ نه جنس اوبه دی یعنی اوبه دَ سړی اودَ زنانه ځکه چه نورو نصوصو سره ثابت دی چه خَلق دَ بچی دَ دواړه اوبونه شویدے۔ ﴿قَرَارٍ مَّكِيْنٍ﴾ مراد دَ دے نه رحِم دَ مور دے چه سرهٔ دَ ثقل دَ حمل نه په رحم کښ محفوظ وی ﴿اِلٰى قَدَرٍ مَّعْلُوْمٍ﴾ مراد ترینه وخت دَ ولادت دے چه شپږمیاشتے یا نهه میاشتے دی بنا په اکثر عادت اګرچه کله کله دَ دے نه زیات شی۔ (مَعْلُوْمٍ) یعنی په اعتبار دَ عرف او عادت دَ نساؤ سره معلوم دے ﴿فَقَدَرْنَا﴾ بعضو اهل لغتوفرق کړے په مینځ دَ تخفیف او تشدیدکښ یعنی مخفف دَ قدرت نه دے نو دا تأکید دَ ماقبل دے یعنی خلق دَ انسان په دغه طریقه ذکرشوے سره خاص قدرت دَ اللّٰه تعالیٰ دے بل هیڅوك داسے قدرت دَ خَلق نه لری۔ اوبعض اهل لغتو دَ مخفف او مشدّد یوه معنیٰ کړیده یعنی تقدیرکول، نواللّٰه تعالیٰ اندازه او تقررکړے دے دَ وخت دَ ولادت او دَ احوالو دَ دے بچی او دَ هغه دَ سعادت یا شقاوت نو قادرون په معنیٰ دَ مقدّرون سره دے نو پدے معنیٰ سره اشاره ده مسئلے دَتقدیرته۔

[۲٤] دلته دَ مکذبین نه مراد هغه دی چه خَلق دَ انسان په دغه طریقے سره په قدرت دَ اللّٰه تعالیٰ سره نه منی اودَ هغه تقدیرهم نه منی۔

وَّ جَعَلْنَا فِيْهَا رَوَاسِيَ شٰمِخٰتٍ وَّ اَسْقَيْنٰكُمْ مَّآءً فُرَاتًا ﴿٢٧﴾ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿٢٨﴾ اِنْطَلِقُوْٓا
اِلٰى مَا كُنْتُمْ بِهٖ تُكَذِّبُوْنَ ﴿٢٩﴾ اِنْطَلِقُوْٓا اِلٰى ظِلٍّ ذِيْ ثَلٰثِ شُعَبٍ ﴿٣٠﴾ لَّا ظَلِيْلٍ وَّلَا يُغْنِيْ
مِنَ اللَّهَبِ ﴿٣١﴾ اِنَّهَا تَرْمِيْ بِشَرَرٍ كَالْقَصْرِ ﴿٣٢﴾ كَاَنَّهٗ جِمٰلَتٌ صُفْرٌ ﴿٣٣﴾ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿٣٤﴾

او جوړ کړیدی مونږ په دے (زمکه) کښ غرونه دنګ او څښولی دی مونږ په تاسو اوبه خوږے (۲۷) تباهی ده په دغه ورځ تکذیب کوؤنکو لره (۲۸) لاړ شئی هغه ځیز ته چه تاسو دَ هغے تکذیب کوؤ (۲۹) لاړ شئی سوری ته چه درے څانګو والادے (۳۰) نه دے سورے ورکوؤنکے او نه فائده ورکوی دَ شغلو نه (۳۱) یقیناً دا اور ویشتل کوی په بسروچه پشان دَ بنګلودی (۳۲) ګویا چه هغه اوښان بے مهارا دی (۳۳) تباهی ده پدغه ورځ تکذیب کوؤنکو لره (۳٤)

[۲٦،۲۵] پدیکښ دویم دلیل عقلی افاقی سفلی دے ﴿كِفَاتًا﴾ دا اسم جنس دے یعنی دَ هرجمع کوؤنکی دپاره لوخے وی یا بل ځیز ﴿اَحْيَآءً وَّاَمْوَاتًا﴾ را جمع کوی ژوندی په شا باندے په دے سره اباد دی، کروندے کوی، ګرځی نورے فائدے ترینه اخلی اوجمع کوی مړولره په دفن کیدلو او دا دلیل دے چه دَ مړو دفن کول ضروری دی او قرطبی وئیلی دی چه دارنګ ځپل ویخته اونو کونه پریکړے شوی هم په زمکه کښ دفن کول پکار دی۔

[۲۷] دابل دلیل عقلی افاقی وسطی دے۔

فائده: په دے درے دلیلونو (خلق دَ انسان او خلق دَ زمکے اوخلق دَ غرونو) کښ مناسبت دے، هغه دا دے چه دَ نطفے نه دَ انسان پیدائش دے اودَ زمکے نه دَ بوټو پیدائش دے اودَ غرونونه دَ اونو بوټو، معدنیاتو او اوبوپیدائش دے نوهغه اللّٰه تعالیٰ چه په دے درے قسمونوپیدائش باندے قدرت لری نو ضروری خبره ده چه هغه په بعث بعد الموت باندے قدرت لری۔

[۲۸] مراد دَ دے نه هغه خلق دی چه دَ زمکے دَ پیدائش او دَ فائدے نه او دَ غرونو او اوبو دَ پیدائش نه انکار کوی چه اللّٰه تعالیٰ نه دی پیدا کړی یا دَ اللّٰه تعالیٰ سره دَ دے په پیدائش کښ شریك شته نو داسے مکذب لره وَیل دے۔

[۲۹] دا تخویف اخروی دے ﴿مَا كُنْتُمْ بِهٖ تُكَذِّبُوْنَ﴾ مراد دَ دے نه عذاب دَ اور دَ جهنم دے۔

[۳۱،۳۰] دا تفصیل دَ مخکښ اجمال دے ﴿ظِلٍّ ذِيْ ثَلٰثِ شُعَبٍ﴾ مراد دَ ظل نه سورے دَ لوګی (لوخړے) دَ جهنم دے لکه سورة واقعه (٤۳) کښ ذکر دی او هرکله چه لوګے په زور سره راوځی نو هغه تقسیم شی درے حصّوته اشاره ده چه دالوګے به ډیر په زور سره راوځی ﴿وَلَا يُغْنِيْ مِنَ اللَّهَبِ﴾ اغنا په معنیٰ دَ دفع کولوسره دے۔ اشاره ده چه دا ظل خلاف دے دَ ظل دَ مؤمنانونه ځکه هغه خو ظل ظلیل دے ۔

[۳۳،۳۲] ﴿كَالْقَصْرِ﴾ پشان دَ لوئے بنګلے یا لرګی پریکړے شوی یا ویخونه دَ غټو اونواوغرونه دا لفظ په دے ټولومعانو سره راځی دا تشبیه په غټ والی کښ ده او بله تشبیه په رنګ کښ ذکرکوی په دے قول سره ﴿كَاَنَّهٗ جِمٰلَتٌ صُفْرٌ﴾ جمالة په یوقرائت کښ په وزن دَ فعالات سره دے اودا جمع الجمع ده۔ اوښانو اوغټے رسئے دَ کشتئے ته وئیلے کیږی۔ صُفْرٌ: زیړے یا تورے ځکه عرب کله صفرة په معنیٰ دَ سواد (تور) سره

هٰذَا يَوْمُ لَا يَنْطِقُوْنَ ﴿٣٥﴾ وَلَا يُؤْذَنُ لَهُمْ فَيَعْتَذِرُوْنَ ﴿٣٦﴾ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿٣٧﴾ هٰذَا
يَوْمُ الْفَصْلِ ۚ جَمَعْنٰكُمْ وَالْاَوَّلِيْنَ ﴿٣٨﴾ فَاِنْ كَانَ لَكُمْ كَيْدٌ فَكِيْدُوْنِ ﴿٣٩﴾ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿٤٠﴾ ع
اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ فِيْ ظِلٰلٍ وَّعُيُوْنٍ ﴿٤١﴾ وَّفَوَاكِهَ مِمَّا يَشْتَهُوْنَ ﴿٤٢﴾ كُلُوْا وَاشْرَبُوْا هَنِيْٓـًٔا بِمَا كُنْتُمْ

دا ورځ ده چه نه به شی کولے دوی خبرے (۳۵) اونه به اذن (حکم) کیږی دوی ته چه بهانے اوکړی (۳۶) تباهی ده په دغه ورځ تکذیب کوؤنکو لره (۳۷) دا ورځ دَ فیصلے ده را جمع به کړو مونږ تاسو اومخکنی خلق (۳۸) نو که وی ستاسو څه چل ول نو اوکړئے چل ما سره (۳۹) تباهی ده پدغه ورځ تکذیب کوؤنکو لره (٤٠) یقیناً متقیان به په سورو او په چینو کښ وی (٤١) او میوے به وی دَ هغه قسم نه چه دوی ئے غواړی (٤٢) خورئے اوڅښئے په خوشحالئ سره په سبب دَ هغه

استعمالوی یا خالی دَ مهارونونه۔

[۳٤] مراد په دے سره هغه خلق دی چه دَ اور دَ جهنم او دَ ظل دَ دغه مذکوره حالاتونه انکار اوتکذیب کوی۔

[۳٦،۳۵] داهم تخویف اخروی دے په ذکر دَ مختلف قسم هیبتونو دَ قیامت سره ﴿لَا يَنْطِقُوْنَ﴾ طاقت دَ نطق کولوبه نه لری (سوال) په نورو اياتونوکښ یختصمون، یتکلمون، یتساء لون، تجادل عن نفسها، دا تعبیرات دلالت کوی چه دوی به خبرے کولے شی؟ (جواب۱) دا دے چه ورځ دَ قیامت اوګنده ورځ ده مشتمل ده په مختلفو حالاتو باندے په بعضِ حالاتوکښ به خبرے کولے شی دروغ بهانے اوانکارد شرك اوکفرنه او اَتباع اومتبوعین به دَ یوبل سره جګړے کوی خوبل حالت به وربانديے داسے دَ هیبت راځی چه هیڅ خبره به نشی کولے (جواب۲) دا دے چه دلته مراد نفی دَ نطق مقیّد ده یعنی خبرے به نشی کولے په حجت او دلیل فائده مند سره۔

[۳۷] ځوك چه داحالت نه منی انکار او تکذیب ئے کوی نو دلته هغه مکذبین مراد دی۔

[۳۹،۳۸] دا بل قسم تخویف دے مخکښ ئے اوفرمائیل چه په عذرونو سره نشی بچ کیدلے اونه اذن شته دلته فرمائی چه په حیلواوکیدونو سره هم نشی بچ کیدلے۔ اودلته یُقَال(اوبه وئیلے شی) په اول کښ پټ دے۔ هذا کښ اشاره ده موصوف ته په دغه صفتونو مخکنوسره ﴿وَالْاَوَّلِيْنَ﴾(سوال) والاخرین ئے ولے ذکرنه کړو؟ جواب اول داچه دلته مکذبین دَ مخکنو انبیاؤ او دَ اخری نبی مراد دی او روستو خونور انبیاء نه راځی نومکذبین اخرین نیشته۔ جواب دویم، دا دے چه په لکم سره خطاب دَ اخری نبی ﷺ امت ته دے اوهغوی ترقیامت پورے دی۔

[٤٠] ځوك چه دا جمع دَ ټولو خلقو اوحساب نه منی نوهغه مکذبین مراد دی۔

[٤٢،٤١] دا بشارت اخرویه دے متقینوته چه هغوی په خلاف دَ مکذبینو دی نو دَ دوی جزا هم دَ هغوی خلاف ده ﴿ظِلٰلٍ﴾ دا سوری دَ اونو او دَ بنګلودی او حقیقی دی او دا په مقابل دَ ظل دَ جهنم کښ دے ﴿عُيُوْنٍ﴾ ئے جمع ذکرکړه ځکه چه دَ هغے انواع ډیردی پشان دَ انهارو دَجنت﴿وَفَوَاكِهَ﴾ یعنی میوے به دَ دوی نه چاپیره هرطرف ته موجود وی۔

تَعْمَلُوْنَ ﴿٤٣﴾ اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ ﴿٤٤﴾ وَيْلٌ يَّوْمَىِٕذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿٤٥﴾ كُلُوْا وَ تَمَتَّعُوْا قَلِيْلًا اِنَّكُمْ مُّجْرِمُوْنَ ﴿٤٦﴾ وَيْلٌ يَّوْمَىِٕذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿٤٧﴾ وَ اِذَا قِيْلَ لَهُمُ ارْكَعُوْا لَا يَرْكَعُوْنَ ﴿٤٨﴾ وَيْلٌ يَّوْمَىِٕذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿٤٩﴾ فَبِاَيِّ حَدِيْثٍۭ بَعْدَهٗ يُؤْمِنُوْنَ ﴿٥٠﴾

چه تاسو کول (٤٣) یقیناً دغسے بدله ورکوؤ مونږ خائسته عمل کوؤنکو ته (٤٤) تباهی ده پدغه ورځ تکذیب کوؤنکو لره (٤٥) خورئے اومزے واخلئے لږه موده یقیناً تاسو مجرمان ئیے (٤٦) تباهی ده په دغه ورځ تکذیب کوؤنکو لره (٤٧) اوکوم وخت چه او وئیلے شی دوی ته رکوع کوئے نو نه کوی دوی رکوع (٤٨) تباهی ده پدغه ورځ تکذیب کوؤنکو لره (٤٩) نو په کومه یوه خبره به روستو دَ دینه دوی ایمان راوړی (٥٠)

[٤٣] دلته یقال (اوبه وئیلے شی) په اول کښ پټ دے ﴿هَنِيْٓـًٔا﴾ هغه خوراك اوڅښاك چه مبارك اودَ فائدونه ډك وی هیڅ مرض او عیب نه پیدا کوی ﴿بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ﴾ دا ظاهری سبب دَ رحمت دَ اللّٰه تعالیٰ دے لکه چه په حدیث کښ دی چه جنت ته بغیر دَ رحمت دَاللّٰه تعالیٰ نه داخله نشی کیدیے ۔

[٤٤] اشاره ده چه عمل خو سبب دے لیکن په شرط دَ احسان سره او احسان عبارت دے دَ اخلاص او اتباع سنت نه۔

[٤٥] ځوك چه دَ متقیانو دَ پاره دَ جنت دَ نعمتونونه انکار کوی او دَ هغے تکذیب کوی نوداسے خلقو لره تباهی ده۔

[٤٦] دا زجردے متعلق دَحال دَ مکذبینوسره او دا مقابل دے دَ حال دَ متقینو سره یعنی متقیانوته به په اخرت کښ وئیلے شی کلوا وشربوا، اومکذبینوته په دنیاکښ وئیلے شی کلوا ﴿قَلِيْلًا﴾ هرکله چه ژوند دَ دنیا قلیل دے په نسبت دَ اخرت اګرچه دنیا کښ دَ مکذبینو خوراکونه اومزے ډیرے دی دَ متقیانوپه نسبت سره لیکن حقیقت کښ قلیل دی په نسبت دَ اخرت سره۔ (قَلِيْلًا) کښ اشاره ده چه په اخرت کښ به دوی دَ دے مزونه محرومه وی۔

[٤٨] دا بل زجر دے ﴿لَا يَرْكَعُوْنَ﴾ رکوع عمل دَ توحید دے نو دا ذکر دَ جزء اومراد ترینه کل دے یعنی صلوٰة، یا رکوع په معنیٰ دَ خضوع کولوده اللّٰه تعالیٰ ته په توحید سره نو دا عام ده په صلوٰة کښ اوخارج دَ صلوٰة نه ټولوته شامل ده۔ او دا تفسیر دَ مجرمون دے یعنی یو جرم ئیے دا دے چه هغه مونځ نه کوی چه په هغے کښ رکوع ده یعنی مونځ دَ صحابه کرامو، او دَ دے تخصیص وجه دا ده چه کتابیانو کافرانو په خپلو مونځونو کښ رکوع پریخودلے وه نو مونځ ئیے بغیر دَ رکوع نه کولو۔

[٤٩] رکوع او مونځ نه کول دا علامت دَ مکذبینو دے دَ دے وجے نه دلته ئیے هم اُوئیل یومَئذٍ للمکذبین۔

[٥٠] هرکله چه لس کرته ئیے تکذیب دَ مکذبینو ذکرکړو نو اخری زجر دادے چه دا تکذیب په اصل کښ تکذیب دَ قرآن دے نوچه دوی دَ دے تکذیب کوی نوبل به کوم کلام وی چه دوی به په هغے ایمان راوړی ابن کثیرحدیث دَ ابوهریرة ﷺ ذکرکړے دے چه څوك دا ایت اولولی نو ورپسے دِ اولولی (په طریقه دَ جواب سره) امنت باللّٰه وما انزل۔

سُوْرَةُ النَّبَا (۷۸) مَكِّيَّةٌ (۸۰) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۴۰ رُكُوْعَاتُهَا ۲

عَمَّ يَتَسَآءَلُوْنَ ۝١ عَنِ النَّبَاِ الْعَظِيْمِ ۝٢ الَّذِيْ هُمْ فِيْهِ مُخْتَلِفُوْنَ ۝٣ كَلَّا سَيَعْلَمُوْنَ ۝٤ ثُمَّ كَلَّا سَيَعْلَمُوْنَ ۝٥ اَلَمْ نَجْعَلِ الْاَرْضَ مِهٰدًا ۝٦ وَّالْجِبَالَ اَوْتَادًا ۝٧ وَّخَلَقْنٰكُمْ اَزْوَاجًا ۝٨ وَّجَعَلْنَا نَوْمَكُمْ

دَ څه په باره کښ دوی تپوسونه کوی (یوبل نه) (۱) دَ لوئے خبر په باره کښ (۲) هغه چه دوی په هغے کښ اختلاف کوی (۳) هیڅرے نه ده پکاره زرده دوی ته به معلومه شی (٤) بیا هیڅرے نه ده پکار زر ده دوی ته به معلومه شی (٥) ایانه ده ګرځولے مونږ زمکه غوړیدلے (٦) او غرونه میخونه (۷) او پیدا کړی ئے مونږ تاسو جوړئے (۸) او ګرځولے دے مونږ خوب ستاسو

سورة النباء

او دے ته سورة عمّ اوسورة عمّ یتساءلون او سورة التساؤل او سورة المعصرات هم وئیلے کیږی۔

ربط: دَ دے سورة دَمخکښ سورة سره په څو طریقو سره دے اوله طریقه دا ده چه په مخکښ سورة کښ زجروؤ په تکذیب باندے نوپه دے سورة کښ زجر دے په اختلاف او تساؤل باندے ۔ دویمه طریقه دا ده چه په هغه سورة کښ نوم دَ قیامت وؤ په یوم الفصل سره نوپه دے سورة کښ دَ مکذبینواومتقیانو په مینځ کښ فصل او فرق ذکرکوی په لس لس وجوهو سره۔

دعویٰ دَ دے سورة: زجر دے منکرینو دَ بعث بعد الموت ته او اثبات دَ هغے دے په دلیلونو او په احوالودَ منکرینواو متقیانو سره تخویفاً اوبشارةً ۔ او دوه اسماء حسنیٰ (رب، رحمان) او څوارلس صفاتِ فعلیه ئیے ذکرکړیدی۔

خلاصه دَ سورة: اول زجردے په انکاردَ بعث بعد الموت په طریقه دَ تساؤل او اختلاف سره تر(٥) پورے بیائیے لس انعامات ذکرکړی دی په دلیل دَ قدرت سره په بعث بعد الموت باندے تر(١٦)پورے بیا تخویف اخروی دے په لس وجوهو سره دَپاره دَ منکرینو او بشارت دے په لس وجوهو سره دَپاره دَ متقیانو۔

تفسیر

[۳،۲،۱] دا زجردے په انکاردَ بعث اودَ قرآن سره ﴿يَتَسَآءَلُوْنَ﴾ مراد دَ تساؤل نه عبث بحثونه کول دی ځان پوهه کول ئیے مقصد نه دے ﴿عَنِ النَّبَاِ الْعَظِيْمِ﴾ مراد دَ نباءِ عظیم نه بعث بعد الموت دے ځکه چه خبردَ قیامت ډیر لوئے او درونده دے په اسمانونواو زمکه کښ یا مراد دَ دے نه قرآن اوتوحید دے لکه سورة ص (٦٧) کښ ﴿مُخْتَلِفُوْنَ﴾ څوك تصدیق کوی اوځوك انکار، اوځوك وائی چه ارواح به صرف بعث کیږی او څوك وائي بعث به دَ لږوخت دَپاره وی۔ او دَ قرآن په باره کښ اختلاف دا دے چه وائی دا سحردے، کهانت دے، شعردے، کلام دَ مجنون دے، خوبونه دی، افتراء ده۔

[٥،٤] په دے کښ دَ زجر سره تخویف دے اوکَلّا، دواړه ردعیه دی او مرجع ئیے جدا جدا ده اول کَلّا ردع دَ تساؤل ده او دویم ردع دَ اختلاف ده او تکرارد ﴿سَيَعْلَمُوْنَ﴾ دَپاره دَکثرت دَعذابونودے یا اول اشاره ده عذاب دنیوی ته اودویم اشاره ده عذاب اخروی ته او احتمال شته چه کَلّا په معنیٰ دَ حقا سره وی۔

سُبَاتًا ﴿۹﴾ وَّجَعَلْنَا الَّيْلَ لِبَاسًا ﴿۱۰﴾ وَّجَعَلْنَا النَّهَارَ مَعَاشًا ﴿۱۱﴾ وَّبَنَيْنَا فَوْقَكُمْ سَبْعًا شِدَادًا ﴿۱۲﴾ وَّجَعَلْنَا
سِرَاجًا وَّهَّاجًا ﴿۱۳﴾ وَّاَنْزَلْنَا مِنَ الْمُعْصِرٰتِ مَآءً ثَجَّاجًا ﴿۱۴﴾ لِّنُخْرِجَ بِهٖ حَبًّا وَّنَبَاتًا ﴿۱۵﴾ وَّجَنّٰتٍ اَلْفَافًا ﴿۱۶﴾

ارام (۹) او کړځولے ده مونږ شپه جامه (۱۰) او کړځولے ده مونږ ورځ وخت دَ کټولو دَ روزئے (۱۱) او جوړ کړی دی مونږ دپاسه ستاسو اووه اسمانونه کلك (۱۲) او جوړ کړیدے مونږ چراغ پرقیدونکے (۱۳) او راورولی دی مونږه دَ درنو وریځونه اوبه رابهیدونکے (۱٤) دَ دے دپاره چه رااوباسو په هغے سره دانے او بوټی (۱۵) او باغونه ګنړ (ګور) (۱٦)

[۸،۷،٦] اوپه دے ځائے کښ ذکرکوی انعامات لس اومقصد په دے کښ اظهاردَ قدرت دے په بعث بعدالموت باندے ځکه چه دا قدرت په دے امورو غټ دے دَ قدرت نه په دوباره ژوندی کولو باندے ـ اول انعام دا دے ﴿اَلَمْ نَجْعَلِ الْاَرْضَ مِهٰدًا﴾ تیاره کړے شوے ده دَپاره دَ ارام اوسکون پشان دَ مهد (غیږ) دَ بچی دَپاره ـ دویم انعام ﴿وَّالْجِبَالَ اَوْتَادًا﴾ داهم په طریقه دَ تشبیه سره دے یعنی پشان دَ میخونوچه په دے سره ئے زمکه کلکه کړے ده دَپاره دَ دے چه اضطرابی حرکتونه اونه کړی اولکه چه دَ میخ څه حصّه بهرده اوځه حصّه دننه وی (خخه وی) نودا سے دَ غرونوهم څه حصّه بهرده اوځه حصّه ئے په زمکه کښ دننه ده۔ دریم انعام﴿وَخَلَقْنٰكُمْ اَزْوَاجًا﴾ ازواج مختلف قسمونه اومختلف شکلونه یا جوړئے مذکراومؤنث ته وئیلے شی۔

[۱۱،۱۰،۹] ځلورم انعام ﴿وَجَعَلْنَا نَوْمَكُمْ سُبَاتًا﴾ سُبت په اصل کښ قطع ته وئیلے شی خوب ته ئے سباتا دَ دے وجے نه وئیلی دی چه دَکارونواودَشغل نه قطع کول کوی۔پنځم انعام﴿وَجَعَلْنَا الَّيْلَ لِبَاسًا﴾ هرکله چه انسان په ډیرو کارونو کښ یوځائے کیدلواودَ خلقونه پرده کولوته محتاج دے اوهغه په شپه کښ کیږی دَ دے وجے نه هغے ته ئے لباس اوفرمائیل او لِبَاس سُکنا (ارام) ته هم وئیلے شی۔ شپږم انعام ﴿وَجَعَلْنَا النَّهَارَ مَعَاشًا﴾ معاش هرهغه څیز ته وئیلے شی چه په هغے سره ژوند تیریږی خوراك څښاك وغیره نومضاف محذوف دے یعنی وقت معاش، یا معاش صیغه دَ ظرف زمان ده او په دے دواړو کښ اصل وصف پټ دے یعنی شپه تیرے والا اوورځ رنړا والا په هغے باندے دانورے فائدے مرتب کیږی۔

[۱۲] اووم انعام ﴿وَبَنَيْنَا فَوْقَكُمْ﴾ شداداً محکم او مضبوط په اعتبار دَ جوړخ سره لکه په سورة ملك (۳) کښ دی او په اعتبار دَ حفاظت سره دَ راغورځیدلونه اوشیطانانونه لکه په سورة انبیاء(۳۳) او سورة حجر(۱۷) اوسورة حج(٦۵) کښ دی او دا ایت صریح دلیل دے چه اسمانونه مضبوط اجسام والادی هسے هواګانے نه دی۔

[۱۳] دا اتم انعام دے ﴿وَهَّاجًا﴾ ډیر پرقیدونکے چه نظر ورته نه شی کیدے هرکله چه دَ نمر رنړاهم ډیره ده او فائدے پکښ هم ډیرے دی نو دَ سپوګمئے ذکرته حاجت رانغے۔

[۱٤] دا نهم انعام دے ﴿الْمُعْصِرٰتِ﴾ هواګانے چه وریځے نچوړوی او باران ترینه را اوباسی یا وریځے چه قریب وی باران وریدلوته لیکن باران ترینه لاوریدلے نه وی۔

[۱٦،۱۵] دا لسم انعام دے او دا متعلق دے په انزلنا پورے فائدے دَباران ذکرکوی ﴿نَبَاتًا﴾ مراد دَ دے نه ګیاګانے او واخه ساګونه وغیره دی دَپاره دَ څاروؤ او انسانانوهم ﴿اَلْفَافًا﴾ اونے چه یوبل سره نزدے وی

إِنَّ يَوْمَ الْفَصْلِ كَانَ مِيقَاتًا ﴿١٧﴾ يَوْمَ يُنفَخُ فِي الصُّورِ فَتَأْتُونَ أَفْوَاجًا ﴿١٨﴾ وَفُتِحَتِ السَّمَاءُ فَكَانَتْ
أَبْوَابًا ﴿١٩﴾ وَسُيِّرَتِ الْجِبَالُ فَكَانَتْ سَرَابًا ﴿٢٠﴾ إِنَّ جَهَنَّمَ كَانَتْ مِرْصَادًا ﴿٢١﴾ لِّلطَّاغِينَ مَآبًا ﴿٢٢﴾ لَّابِثِينَ
فِيهَا أَحْقَابًا ﴿٢٣﴾ لَّا يَذُوقُونَ فِيهَا بَرْدًا وَلَا شَرَابًا ﴿٢٤﴾ إِلَّا حَمِيمًا وَغَسَّاقًا ﴿٢٥﴾ جَزَاءً وِفَاقًا ﴿٢٦﴾ إِنَّهُمْ كَانُوا

یقیناً ورځ د فیصلے دے وخت مقرر (۱۷) په هغه ورځ چه پوکے اوکړیشی په شپیلئی کښی نو راځئے به تاسو ډلے ډلے (۱۸) او پرانستلے به شی اسمان نو شی به دروازے (۱۹) او روان به کړیشی غرونه نو شی به پرق د شکے (۲۰) یقیناً جهنم دے ځائے د ځوکئے (مورچه) (۲۱) دپاره د سرکشانو دے ځائے د ورتللو (۲۲) او سیږی به په هغے کښی ډیرے زمانے پورے (۲۳) نه به څکی دوی په هغے کښی یخنی او نه د څښنکلو څه څیز (۲٤) مګر خوټکیدلے اوبه او وینے زوے (۲۵) بدله ده پوره (۲٦) یقیناً دوی وؤ

او څانګے ئیے هم ډیرے وی نو یوبل کښی ننوتے وی دے ته الفافا وئیلے شی۔

[۲۰،۱۹،۱۸،۱۷] دا تخویف اخروی دے په ذکرد هیتونو د ورځ د قیامت او په ذکر د احوالو د جهنم سره ﴿فِي الصُّوْرِ﴾ د دے نه دویمه نفخ مراد ده ﴿سَرَاباً﴾ داهم په تشبیه سره دے یعنی کاالسَّراب لکه چه سراب په ستر کو باندے ښکاریږی لیکن په حقیقت کښی هیڅ نه وی نو دارنګ به غرونه شی۔

[۲۳،۲۲،۲۱] دا تخویف اخروی دے په ذکر د لسو احوالو د جهنم سره ﴿مِرْصَاداً﴾ مطلب ئیے دا دے چه په جهنم باندے مامورملائك انتظارکوی د کافرانوپه جهنم کښی یا د جهنم دپاسه په صراط باندے یا معنیٰ داچه جهنم تیارکړے شویدے دپاره دعذاب ﴿اَحْقَاباً﴾ جمع د حقب ده یوټکړے د زمانے ته وئیلے کیږی او لفظ د ایام یا شهور یا سنة ئیے نه دی وئیلی ځکه چه په دے لفظ کښی ډیر هیبت دے بلکه وجه دا ده چه د احقاب انتهاء معلومه نه ده او د یوم او شهر اوسنة انتها خو معلومه ده او د دے په مقدارکښی مختلف اقوال دی یو دا چه اتیاکلونه حقب دے دویم قول څلویښت کاله دریم اویا کاله څلورم هزار میاشتے پنځم اوویا زره کاله شپږم دیرش زره کاله صحیح دا ده چه د دے مقدار معلوم نه دے او جمع (احقاب) د دے انتهاء هم معلومه نه ده نو معلومه شوه چه دا کنایه ده د همیش والی نه۔

فائده: بعض اهلِ علمو د دے نه ثابت کړیده چه جهنم به فنا کیږی لیکن دا قول د هغوی یو لغزش دے، ځکه اول خو د حقب په مدت کښی اختلاف دے په صحیح سند سره یو مرفوع حدیث په دے کښی ثابت نه دے دویم داچه اقوال پکښی متعارض موجود دی یو طرف ته ترجیح بغیر د مرجح نه نشی ورکیدلے۔ دریم داچه جمع (احقاب) دپاره هم انتهاء نه ده معلوم ۔څلورم دا چه دا قول د دوی د صریح نصوصونه خلاف دے لکه فلن نزید کم الّاعذابا، او خالدین فیها ابدا، خلود د مکین دلالت کوی په خلود د مکان باندے۔

[۲٦،۲۵،۲٤] ﴿بَرْدًا﴾ پدیکښی ډیراقوال دی خوب، یخے اوبه، یخه هوا، راحت د زړه ﴿وِفَاقاً﴾ یوموافقت دا دے چه شرك ډیرغټ ګناه دے اودا عذاب هم غټ دے دویم د دوی عملونه هم ګنده وؤنوعذاب ئیے هم ګنده دے اودا مشرکان هم ګنده دی۔

لَا يَرْجُوْنَ حِسَابًا ﴿۲۷﴾ وَّكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا كِذَّابًا ﴿۲۸﴾ وَكُلَّ شَيْءٍ اَحْصَيْنٰهُ كِتٰبًا ﴿۲۹﴾ فَذُوْقُوْا فَلَنْ نَّزِيْدَكُمْ
اِلَّا عَذَابًا ﴿۳۰﴾ اِنَّ لِلْمُتَّقِيْنَ مَفَازًا ﴿۳۱﴾ حَدَآئِقَ وَاَعْنَابًا ﴿۳۲﴾ وَّكَوَاعِبَ اَتْرَابًا ﴿۳۳﴾ وَّكَاْسًا دِهَاقًا ﴿۳۴﴾
لَا يَسْمَعُوْنَ فِيْهَا لَغْوًا وَّلَا كِذّٰبًا ﴿۳۵﴾ جَزَآءً مِّنْ رَّبِّكَ عَطَآءً حِسَابًا ﴿۳۶﴾ رَّبِّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا

چه نه ئیے لرلو امید دَ حساب (۲۷) او دروغژن ئیے ګنړل ایتونه زمونږ په دروغژن ګنړلو (۲۸) او هر یو څیز راګیر کړیدے هغه موتږ په لیکلو سره (۲۹) نو اوڅکئی چړے نه زیاتوؤ مونږ تاسو لره مګر عذاب (۳۰) یقیناً متقیانو لره ځائے دَ کامیابئی دے (۳۱) باغونه اوانګور (۳۲) او ځوانے جینکئی همزولے دَ دوی (۳۳) او پیالے ډکے (۳۴) نه به اوری دوی په هغے کښ بے فائدے خبرے او نه دروغژن کول (۳۵) بدله ده دَ طرف دَ رب ستا نه بخشش ډیر (۳۶) رب دَ اسمانونو او دَ زمکے دے اودَ هغے

[۲۸،۲۷] دا بیان دَ هغه عمل دے چه جزا ورسره موافق ده او دارنګ دا ذکر دَ علت دَ عذاب دے او دا دواړه ذکر شوی عملونه دَ ټولو کفریاتو او ګناهونو دَ پاره اصل منشاء ده ﴿كِذَّابًا﴾ فراء وئیلی دی چه دا مصدر دَ فصیح لغت او دَ مبالغے دپاره استعمالیږی یعنی لوئے تکذیب ئیے کړے دے۔

[۲۹] دا جمله معترضه ده جواب دَ سوال دے هغه دا دے چه دا عملونه خودوی کړی دی لیکن کیدے شی چه دوی انکار اوکړی؟ حاصل جواب دا دے چه ټول اعمال دَ دوی اللّٰه تعالیٰ پوره لیکلی دی۔ ﴿كِتٰبًا﴾ دَ دے نه مراد لیکل دَ ملائکو دی په صحیفو دَ اعمالو کښ او اللّٰه تعالیٰ ته نسبت په دے وجے سره دے چه دَ هغه په امر سره دی۔

[۳۰] دا تفریع ده په مخکښ عملونو سرهٔ دَ لیکلو دَ هغے نه چه هغه سبب دَ عذاب دے ۔ او دا دلیل دے چه عذاب دَ کافرانو به نه منقطع کیږی نو جهنم به نه فنا کیږی۔

[۳۴،۳۳،۳۲،۳۱] په دے ایاتونو کښ ذکر دَ بشارت دے روستو دَ تخویف نه او داهم په لس طریقو سره دے ﴿مَفَازًا﴾ دَ ابن عباس رضی اللّٰه عنهما نه روایت دے چه مراد په دے سره مکان دَ سیل کولو او دَ تنزه دے او روستودَ هغے بیان دے ځکه حرف عاطف ئیے نه دے ذکر کړے۔ اوپه معنیٰ دَ ځائے دَ نجات اودَ کامیابئی هم کیدے شی ﴿حَدَآئِقَ﴾ جمع دَ حدیقة ده دَ کوم باغ نه چه دیوال (احاطه) چاپیره وی نو ورته حدیقه وئیلے شی بغیردَا حاطے نه هغے ته حدیقه نشی وئیلے ﴿وَكَوَاعِبَ﴾ جمع دَ کاعب ده هغه زنانه چه نوے بالغه شی او سینے ئیے په ځائے باندے اولاړے وی یعنی چا مَسح کړے نه وی۔

[۳۵] ﴿لَغْوًا﴾ هره بے فائدے خبره که نورنقصان پکښ وی او که نه وی، اودا جمله کنایه ده دَ استراحت اودَ ارام نه ځکه څوك چه دَ بل چا دَ طرف نه لغویات بے فائدے خبرے اوری یا دَ دهٔ دَ یوخبرے تکذیب او انکار کیدے شی نو داسے شخص خفه او غمژن وی او جنت کښ دا دواړه نیشته دے۔ هاں دنیا کښ حق پرستو دا دواړه خبرے دَ منکرینونه اوریدلے۔

بَيْنَهُمَا الرَّحْمٰنِ لَا يَمْلِكُوْنَ مِنْهُ خِطَابًا ﴿٣٧﴾ يَوْمَ يَقُوْمُ الرُّوْحُ وَالْمَلٰٓئِكَةُ صَفًّا ۙ لَّا يَتَكَلَّمُوْنَ اِلَّا مَنْ اَذِنَ لَهُ الرَّحْمٰنُ وَقَالَ صَوَابًا ﴿٣٨﴾ ذٰلِكَ الْيَوْمُ الْحَقُّ ۚ فَمَنْ شَآءَ اتَّخَذَ اِلٰى رَبِّهٖ مَاٰبًا ﴿٣٩﴾ اِنَّآ اَنْذَرْنٰكُمْ عَذَابًا قَرِيْبًا ۚ يَّوْمَ يَنْظُرُ الْمَرْءُ مَا قَدَّمَتْ يَدٰهُ وَيَقُوْلُ الْكٰفِرُ يٰلَيْتَنِيْ كُنْتُ تُرٰبًا ﴿٤٠﴾ ع

چه په مینځ دَ دے دواړو کښ دی رحمان ذات دے نه به لرے وس دَ هغه سره دَ خبرو کولو (۳۷) په هغه ورځ چه اودریږی روح او ملائك صفونه خبرے به نشی کولے مګر هغه څوك چه اذن (اجازت) کړے وی هغه ته رحمٰن ذات او وئیلے وی حقه خبره (۳۸) دغه ورځ حقه ده نو څوك چه غواړی او دے نیسی رب خپل ته لار دَ ورتللو (۳۹) یقیناً مونږ یره درکړیده تاسو ته دَ عذاب نزدے نه په هغه ورځ چه اوبه وینی هر سړے هغه عمل چه مخکښ لیږلے دے لاسونو دَ دهٗ او وائي به کافر هائے ارمان دے چه وے ځه خاورے (٤٠)

[۳۷] ﴿لَا يَمْلِكُوْنَ مِنْهُ خِطَابًا﴾ مراد دَ خطاب نه مطلق خبرے کول دی یا خبره دَ سفارش دَچادپاره، یا مراد دَ دے نه اللّٰه تعالیٰ ته امر اوحکم کول دی پدیکښ هیڅوك دَ هیڅ خبرے طاقت او اختیارنه لری هاں شفاعت بالاذن ترینه مستثنیٰ دے لکه سورة بقره (۲۵۵)او سورة هود(۱۰۵) اوپدے ایت کښ توحید دَ ربوبیت او رد دَ شفاعت شرکیه (قهریه) دے۔

[۳۸] ﴿الرُّوْحُ﴾ په دے کښ قرطبی اته اقوال نقل کړی دی:

(۱) ارواح دَ بنی آدم، (روح) اسم جنس دے مراد ترینه جمع ده۔ (۲) جبرئیل علیه السلام چه هغه ته روح القدس اوروح الامین هم وئیلے شوے دے۔ (۳) یوملك دے دَ ملائکونه چه هغه دَ ډیرغټ والی دَ وجے نه به مستقل صف وی۔ (٤) ټول بنو آدم مراد دی۔ (٥) دا مستقل لښکر دے دَ اللّٰه تعالیٰ دَ لښکرونه غیر دَ ملائکونه۔ (٦) قرآن مراد دے لکه چه په سورة شوریٰ (٥٢) کښ دی۔ (۷) اشراف دَ ملائکو۔(۸) مستقل مخلوق دے په شکل دَ بنوآدم لیکن غیردی دَ هغوی نه۔ ابن جریر په دے کښ توقف کړے دے او ابن کثیر څلورم قول غوره کړے دے اواکثرو مفسرینودویم قول غوره کړے دے ﴿لَا يَتَكَلَّمُوْنَ﴾ دلته مراد بل چا دَپاره شفاعت کول دی اوپه لایملکون منه خطاباکښ عام مراد وؤیا دَځان دَپاره څه خبره کول مراد وؤاوداسے په سورة هود (۱۰۵)کښ هم تیرشویدی اوپه حدیث کښ راغلی دی چه خبرے به نشی کولے هیڅوك سیوا دَ رسولانونه﴿وَقَالَ صَوَابًا﴾ مراد دَ دے نه حقه ویناکول دی نوکلمه دَ توحید وئیل په دنیا کښ او صرف دَ مؤمن دَپاره شفاعت کول په اخرت کښ داپه صواب کښ داخل دی۔

[۳۹] په دے ایت کښ ئے دَ انسان دَپاره مشیت ثابت کړے دے اګرچه دا مشیت مقید دے په مشیّت دَ اللّٰه تعالیٰ پورے۔

[٤٠] ﴿عَذَابًا قَرِيْبًا﴾ مراد دَ دے نه عذاب دَ قیامت دے یا عذا ب دَ قبر په دلیل دَ مابعد سره، عذاب دَ دنیا مراد نه دے او هرهغه څیز چه راتلونکے وی نو قریب وی او قیامت ته قریب وئیلے شوے دے په سورة معارج (۷) کښ ﴿كُنْتُ تُرٰبًا﴾ په دے کښ دوه اقوال دی اول داچه په دنیاکښ خاورے وے اوځه انسان مکلّف نه وے دویم قول داچه خاورو سره خاورے وے یعنی دوباره ژوندون نه وے۔ او دَ دے تائید په سورة نساء (٤٢) کښ تیرشوے دے۔

سُوْرَةُ النّٰزِعٰتِ (۷۹) مَكِّيَّةٌ (۸۱) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۴۶ رُكُوْعَاتُهَا ۲

وَالنّٰزِعٰتِ غَرْقًا ۝۱ وَّالنّٰشِطٰتِ نَشْطًا ۝۲ وَّالسّٰبِحٰتِ سَبْحًا ۝۳ فَالسّٰبِقٰتِ سَبْقًا ۝۴ فَالْمُدَبِّرٰتِ اَمْرًا ۝۵

قسم دے په هغه ملائکو چه راکاږی روح دَ کافرانو په سختئی سره (۱) او قسم دے په هغه ملائکو چه پرانځی روح دَ مؤمنانو په اسانو پرانستلو (۲) او قسم دے په هغه ملائکو چه لامبو وهی لامبو وهل(۳) بیا مخکښ کیږی حکم دَ اللّٰه تعالیٰ ته په مخکښ کیدلو سره (٤) بیا انتظام کوؤنکی دی دَ بعضِ کارونو (۵)

سورة النازعات

او دَ دے نور نومونه، سورة الساهره،سورة الطامّة دی۔

ربط: دَ دے سورة دَ ماقبل سره په څو وجوهو دے اوله وجه مخکښ سورة کښ سخت زجر وؤ په منکرینو دَ بعث باندے نو اوس په دے سورة کښ تخویف دنیوی دے په واقعه دَ فرعونیانو سره۔ دویمه وجه په هغه سورة کښ اثبات دَ بعث دَپاره عقلی دلیلونه وؤ نو په دے سورة کښ سرهٗ دَ دلیلونونه شواهد هم ذکر کوی۔

دعویٰ دَ دے سورة: اثبات دَ قیامت دے په شواهدو اوپه هیبتونو اوپه تخویف دنیوی او دلیلونو سره او اسماءِ حسنیٰ پکښ درے اوصفات فعلیه پکښ لس ذکردی۔

خلاصه دَ دے سورة: اول ئے پنځه شواهد ذکرکړیدی بیا پنځه احوال دَ حشرتر(۱۰) پورے بیا پنځه اياتونوکښ زجرونه دی بیا تخویف دنیوی دے په واقعه دَ فرعونیانو سره په لس اياتونوکښ بیالس عقلی دلیلونه دی تر(۳۳) پورے بیا تخویف اخروی دے په ذکر دَ څلورو احوالو دَ قیامت، سرهٗ دَ ذکر دَ سبب نه چه طغیان دے بیا بشارت دے په ذکر دَ سبب دَ هغے سره تر(٤۱) پورے بیا زجر دے په څلورو طریقو سره په سوال او جواب سره تر اخر دَ سورة پورے ۔

تفسیر

[۱نه۵پورے] دا قسمونه دَپاره دَ شهادت دی اومقسم به هغه څیزونه دی چه دا پنځه دَ هغوی صفتونه دی او صفتونه ئے په ځائے دَ موصوف باندے قائم کړیدی او صفتونه ئے دَ دے وجے نه ذکرکړی دی چه دخل په شهادت کښ دغه صفتونولره دے صرف ذواتولره نه دے۔ بیا په دے کښ اختلاف دے دَمفسرینوبعضو وئیلی دی چه داصفتونه دَ یو موصوف دَپاره دی او عطف دَ صفت په صفت باندے مشهور دے نوبنا په دے باندے قسم یودے۔ یعنی اول واوقسمیه دے او روستودوه واوؤنه او دوه فاګانے دپاره دَ عطف دی ۔ا و بعضو وئیلی دی چه داصفتونه دَ جدا جدا موصوفاتو دی نوپنځه قسمونه شول۔ بیا په اول قول سره (چه موصوف ئیے یوشی) نو په هغے کښ مشهور پنځه اقوال دی اول دا چه دا ټول صفتونه دَ ملائکو دی چه په قبض دَ ارواحو باندے مقرردی۔ دویم داچه صفتونه دَ حمله کوونکو اسونو دی لکه والعادیات اه، پشان۔ دریم داصفتونه دَ نیکانو خلقو دی چه دعوت اوتبلیغ دَ دین حق کوی۔ څلورم دا

يَوْمَ تَرْجُفُ الرَّاجِفَةُ ۝٦ تَتْبَعُهَا الرَّادِفَةُ ۝٧ قُلُوبٌ يَّوْمَئِذٍ وَّاجِفَةٌ ۝٨ اَبْصَارُهَا خَاشِعَةٌ ۝٩
يَقُوْلُوْنَ ءَاِنَّا لَمَرْدُوْدُوْنَ فِي الْحَافِرَةِ ۝١٠ ءَاِذَا كُنَّا عِظَامًا نَّخِرَةً ۝١١ قَالُوْا تِلْكَ اِذًا كَرَّةٌ خَاسِرَةٌ ۝١٢

په هغه ورځ چه اوبه لړ زیږی لړځیدونکے (٦) رابشی وربسے روستو راتلونکے (٧) زړونه به په دغه ورځ در زیدونکے وی (٨) سترګے به دَ هغوی کوزے (لاندے) وی (٩) وائي به دوی ایا مونږه به واپس کړے شو زوړ حالت ته (١٠) ایا کوم وخت چه مونږ هډوکی زاړه شو (١١) وائي دوی دا په دغه وخت دوباره راتلل دی تاوانی (١٢)

صفتونه دَ ستورو دی۔ پنځم داصفتونه دَ ارواحو دَ نیکانو خلقودی اودَ دے نه علاوه نور اقوال هم غیرمشهور شته دے۔ دَ مفسر ابن جریر رائے دا ده چه دلیل قطعی دَهیڅ یوموصوف په تعیین باندے نیشته نو چه دا صفتونه دَ هرموصوف سره مناسب وی (او دَ قرآن دَشان نه لرے نه وی) نو هغه ټول مراد کیدلے شی او دَ مفسر ابن عطیه نه علامه الوسی نقل کړیدی چه ماته خلاف نه دے معلوم په دے خبره کښ چه مراد په دے سره ملائك دی اوالوسی وئیلی دی چه پته دِ نه وی چه اکثردَ دے اقوالو لائق نه دی دَ شان دَ عظمت دَ قرآن سره اوپوره مناسبت نیشته دَ هغے دَ قرآن سره خصوصاً حمل کول دَ دے صفاتوپه ستوروباندے دَ نحومیانواوفلاسفودَ باطل قول تائیدکوی چه هغوی ستورولره تاثیرثابته وی او دارنګ حمل کول په ارواحو دَ نیکانو بزرګانو باندے دَ کم عقلو خلقو دَ غلطے عقیدے تائیدکوی چه هغوی عقیده لری چه اولیاء کرام روستو دَ مرګ نه هم په عالم کښ تصرّف کوی یعنی بیماران جوړوی غرقیدونکی له نجات ورکوی اومددکوی په مقابله دَ دشمنانو کښ په دے عقیدے سره چه اللّٰه تعالیٰ دا تصرفات دوی ته سپارلی دی۔ اوبعض داخاص کوی په پنځه اولیاؤ پورے او دا ټول جهل دے (بلکه صریح شرك دے ځکه چه دا خو مخلوق لره دَ اللّٰه تعالیٰ په صفتونو کښ برخه ورکول دی)۔

[٦،٧] ﴿الرَّاجِفَةُ﴾ په معنیٰ دَ اولے شپیلئے ده چه هغه به ټوله زمکه او ټول ځیزونه اوجړقوی ۔ یا الراجفة نه مراد زمکه ده چه په هغے کښ به لویه زلزله راشی ﴿الرَّادِفَةُ﴾ دویمه شپیلئے ده دَپاره دَ بعث بعد الموت او په حدیث سره ثابت دی چه دَ دواړو په مینځ کښ به ځلویښت کاله فاصله وی پدے مینځ کښ نور څه نیشته دَ دے وجے نه دویمے شپیلئے ته ئے رادفه اُوئیل۔

[٨،٩] اشاره ده چه اثر دَ هیبت دَ هغه ورځ په زړونو او سترګو باندے هم دے ﴿قُلُوْبٌ﴾ نکره ده مراد دَ دے نه بعضِ قلوب دی یعنی زړونه دَ کافرانو۔

[١٠] دا زجردے په انکاردَ بعث بعد الموت سره نودا سبب دے دَ هیبت دَ زړونو او دَ سترګو چه مخکښ ذکرشول ﴿فِي الْحَافِرَةِ﴾ اولنے حالت، دنیا، زمکه چه په هغے کښ قبرونه کنستلے کیږی، اور دَ جهنم، اول قول غوره دے۔

[١١،١٢] ﴿نَخِرَةً﴾ زاړه، ذرّے ذرّے، ډ ډ (خالی) ﴿خَاسِرَةٌ﴾ واپس کیدل تاوانی دی، دا په طریقه دَ استهزاء سره وائی چه هرکله دنیاته واپس راشو نوزمونږمالونه کورونه وغیره به نه وی نو دا خوبه زمونږ نقصان وی۔ یا داچه دابه خسران وی په هغه چا باندے چه اوس دَ هغے تکذیب کوی۔

فَاِنَّمَا هِیَ زَجْرَةٌ وَّاحِدَةٌ ﴿۱۳﴾ فَاِذَا هُمْ بِالسَّاهِرَةِ ﴿۱۴﴾ هَلْ اَتٰىكَ حَدِیْثُ مُوْسٰى ﴿۱۵﴾ اِذْ نَادٰىهُ رَبُّهٗ بِالْوَادِ
الْمُقَدَّسِ طُوًى ﴿۱۶﴾ اِذْهَبْ اِلٰى فِرْعَوْنَ اِنَّهٗ طَغٰى ﴿۱۷﴾ فَقُلْ هَلْ لَّكَ اِلٰۤى اَنْ تَزَكّٰى ﴿۱۸﴾ وَ اَهْدِیَكَ اِلٰى
رَبِّكَ فَتَخْشٰى ﴿۱۹﴾ فَاَرٰىهُ الْاٰیَةَ الْكُبْرٰى ﴿۲۰﴾ فَكَذَّبَ وَعَصٰى ﴿۲۱﴾ ثُمَّ اَدْبَرَ یَسْعٰى ﴿۲۲﴾ فَحَشَرَ فَنَادٰى ﴿۲۳﴾

نو یقیناً دا خو چغه یوه ده (۱۳) نو دغه وخت به دوی په ډاګه وی (۱٤) یقیناً راغلے دے تاته خبر دَ موسیٰ(علیه السلام) (۱۵) کله چه اواز ورکړو هغه ته رب دَ هغه په میدان پاك کښ چه طویٰ دے (۱٦) لاړشه فرعون ته یقیناً هغه سرکشی کړیده (۱۷) نو اُوایه ایا ته غواړے دا چه پاك شے (۱۸) او لار اوښایم تاته طرف دَ رب ستاته نو اوبه یریږے (۱۹) نو اوخودله ئے هغه ته نخښه لویه (۲۰) نو تکذیب ئے اوکړو او نافرمانی ئے اوکړه (۲۱) بیا ئے شا اوګرځوله کوشش ئے کوؤ (۲۲) نو راجمع ئے کړل (ساحران) نو اوازئے اوکړو (۲۳)

[۱٤،۱۳] ﴿زَجْرَةٌ﴾ اواز په زورنے سره مراد ترینه دویمه نفخه (شپیلئے) ده او په دے تعبیر کښ اشاره ده چه په دے اواز سره به ټول مخلوق اودریږی او روستو به نشی تللے او محشرته به جمع کیږی۔ ﴿بِالسَّاهِرَةِ﴾ مخ دَ زمکے چه صاف میدا ن به وی یعنی دَ خیټے دَ زمکے نه به بهرمیدان ته را اوځی چه نه به غرونه او ډیرئے وی اونه به کندے وی۔

[۱٦،۱۵] په دے واقعه ذکرکولو کښ روستنومنکرینوته تخویف دنیوی دے په اهلاك دَ فرعون سرهٔ دَ ال دَ هغهٔ نه اګرچه ډیر طاقت وروؤ یعنی دا منکرین به دَ عذاب دَ اللّٰه تعالیٰ نه بچ نشی لکه چه فرعون بچ نه شو۔

[۱۹،۱۸،۱۷] دا تفصیل دَ نداء دے ﴿فِرْعَوْنَ﴾ مراد ورسره قوم دَ هغه هم دے لیکن تخصیص ئے دَ هغه دَ دے وجے نه اوکړو چه هغه مقتدا وو او هغه خلقو لره دَ هر دین نه منع کړی وؤ ما سیوا دَ خپل دین نه او دا دَ هغه طغیان دے چه په (اِنَّهٗ طغیٰ) کښ ذکردے یعنی دَ حدنه تجاوزکول په کفر اوشرك سره اوپه خلقوباندے ظلم کولو سره اودَ حق دین نه په منع کولوسره ﴿فَقُلْ هَلْ لَّكَ﴾ داطریقه دَ دعوت ده په نرمه لهجے سره۔ هَل لفظ دَپاره دَترغیب دے اوطلب دَ انابت دے حق ته ﴿اِلٰۤى اَنْ تَزَكّٰى﴾ تزکیه پاك والی باطنی ته وئیلے شی او هغه حاصلیږی په توحید سره اشاره ده چه شرك اوکفر پلیتی ده دَ هغے نه پاکوالے حاصلیږی په ایمان او توحید سره او دا تزکیه مستلزم ده بچ کید لولره دَ عذاب نه ﴿وَاَهْدِیَكَ اِلٰى رَبِّكَ﴾ اشاره ده چه فرعون په شرك فی الربوبیت کښ مبتلا وؤ نو هغه ته دلیلونه دَ توحید دَ ربوبیت پیش کول ضروری وؤ۔

[۲۰] دَ دے ایت نه دَ فرعونیانو لس حالات ذکرکوی (طریقه دَ انکار دَ هغوی او عذاب) ﴿الْاٰیَةَ الْكُبْرٰى﴾ دا اسم جنس دے مراد دَ دے نه هغه ټول نهه معجزات دی چه موسیٰ(علیه السلام) راوړی وؤاوبعضِ مفسرینودا خاص کړے دے معجزه دَ عصاپورے چه هغه په ظاهرکښ یوه معجزه وه او په اصل کښ ډیرو معجزاتوته شامل وه (انقلاب دَ جنس، حیات په جمادکښ او اجزاء ډیریدل، تیرول دَ ډیروځیزنو، لوئ قوت اوغلبه حاصلیدل) نومعلومه شوه چه دا لویه معجزه وه نودلیل دے په نبوت دَ موسیٰ(علیه السلام) اودلیل دے په عظیم قدرت دَ اللّٰه تعالیٰ باندے ﴿ثُمَّ اَدْبَرَ﴾ دَ خپلے ګمراهئی نه روستو دَ نوروخلقودَګمراه کولو کوشش کوی یعنی ضَال اومُضِل وؤ ﴿اَدْبَرَ﴾ شا ئے کړله حق ته یا شائے اوګرځوله موسیٰ(علیه السلام) ته یعنی

فَقَالَ اَنَا رَبُّكُمُ الْاَعْلٰى ﴿۲۴﴾ فَاَخَذَهُ اللّٰهُ نَكَالَ الْاٰخِرَةِ وَالْاُوْلٰى ﴿۲۵﴾ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّمَنْ يَّخْشٰى ﴿۲۶﴾
ءَاَنْتُمْ اَشَدُّ خَلْقًا اَمِ السَّمَآءُ ؕ بَنٰىهَا ﴿۲۷﴾ رَفَعَ سَمْكَهَا فَسَوّٰىهَا ﴿۲۸﴾ وَاَغْطَشَ لَيْلَهَا وَاَخْرَجَ ضُحٰىهَا ﴿۲۹﴾

اُوئیل ئے څه رب یم ستاسو اوچت (۲٤) نو اونیوؤ دهٔ لره اللّٰه تعالیٰ په سزا دَ اخرت او دَ دُنیا سره (۲۵) یقیناً په دیکښ عبرت دے هغه چا لره چه ویریږی (۲٦) ایا تاسو ډیر کلك پیدائش والا ئے یا اسمان چه جوړ کړیدے اللّٰه تعالیٰ (۲۷) پورته ئے جوړ کړیدے چت دَ هغه نو برابر کړیدے (۲۸) او تیاره کړیده شپه دَ هغه او ښکاره کړیدے دَ ساخت وخت (۲۹)

هغه سره ئے خبرے کول پریخودل اواراده دَ مقابلے ئے اوکړه یا شائبے اوګرځوله دَ وجے دَ ویرے دَ ځنبان نه۔ ﴿یَسْعٰی﴾ په اول دوه توجیهاتو (په ادبر) کښ معنیٰ دا ده چه کوشش ئے شروع کړو دَپاره دَ مقابلے کولو او دَپاره دَ جمع کولو دَ ساحرانو او بنا په دریمه توجیه باندے مراد دا دے چه منلے وهلے دَپاره دَ بچ کیدلو دَ بنامارنه۔

[۲٤] ابن کثیرذکر کړی دی چه دا کلمه دَ فرعون دَ هغه کلمے نه چه په سورة قصص(٤۱) کښ ذکر ده ځلویښت کاله روستوده دَ هغه کلمے مطلب دا وؤچه فرعون شرك فی الالوهیت کوؤ او دَ دے کلمے مراد دا دے چه دے مشرك فی الربوبیت وؤ او ﴿رَبُّكُمُ الْاَعْلٰی﴾ نه ئے مراد داوؤ چه دنیا خو صرف مصر دے او دَ دے ټول تصرفات او انتظامات زما په اختیارکښ دی زمانه بره بل تدبیرکوؤنکے نیشته یعنی دَ اللّٰه تعالیٰ دَ تصرف او تدبیر کولونه ئے انکار اوکړو او بعضِ مفسرینو وئیلی دی چه مراد ئے دا وؤ چه نور اِلهه هم ارباب دی هریو دَ یوحاجت پوره کولو یا دَ خاص مصیبت لرے کولو ذمه دار دے او ځه (فرعون) خو دَ ټولو حاجاتو پوره کولو ذمه واریم نو دَ نورونه اعلیٰ شوم۔

[۲۵] ﴿اَلْاٰخِرَةِ وَالْاُوْلٰی﴾ روستنئے کلمے نه مراد اناربکم الاعلی دے اومخکنے کلمه ما علمت لکم من اِلٰه غیری ده۔ یا مراد دَ اخرت نه قیامت دے او الاولیٰ نه مراد دنیا ده او ابن کثیر صرف دا معنیٰ صحیح ګرځولے ده په دلیل دَ سورة هود(۹۹) او سورة قصص(٤۱) سره لیکن لفظ نکال دلالت کوی چه اوله معنیٰ غوره ده او دارنګ عبرت (چه راتلونکے وی) دلالت په اول معنیٰ باندے کوی۔

[۲٦] په دے کښ فائِده دَدے واقعے دَ روستوخلقو دپاره ذکرکوی نوعبرت دے منکرینو لره په عذاب دَ فرعون سره او عبرت دے نبی ﷺ او مؤمنانو لره په امداد دَ اللّٰه تعالیٰ سره او په صبرکولوسره۔

[۲۹،۲۸،۲۷] په دے ایاتونوکښ لس دلیلونه دَ بعث بعد الموت ذکرکوی یعنی واقعه دَ فرعون دلیل وؤ دَ قدرت دَ اللّٰه تعالیٰ نو دا عالم بره اوخکته هم دلیل دے په قدرت دَ اللّٰه تعالیٰ باندے نو بعث بعد الموت هم کولے شی ﴿ضُحٰهَا﴾ مراد دَ دے نه ورځ ده لیکن په وخت دَ ضحیٰ کښ رنړا ډیره وی دَ دے وجے نه دا تعبیر ئے اوکړو۔ او دَ شپے لویه فائِده تیاره ده نو غطش ئے ذکرکړو او دَ ورځے لویه فائِده رنړا ده او بهروتل او ښکاره کیدل دی نو ضُحیٰ او اخرجَ ئے ذکرکړو۔

وَالْاَرْضَ بَعْدَ ذٰلِكَ دَحٰىهَا ﴿۳۰﴾ اَخْرَجَ مِنْهَا مَآءَهَا وَمَرْعٰىهَا ﴿۳۱﴾ وَالْجِبَالَ اَرْسٰىهَا ﴿۳۲﴾ مَتَاعًا لَّكُمْ
وَلِاَنْعَامِكُمْ ﴿۳۳﴾ فَاِذَا جَآءَتِ الطَّآمَّةُ الْكُبْرٰى ﴿۳۴﴾ يَوْمَ يَتَذَكَّرُ الْاِنْسَانُ مَا سَعٰى ﴿۳۵﴾ وَبُرِّزَتِ الْجَحِيْمُ
لِمَنْ يَّرٰى ﴿۳۶﴾ فَاَمَّا مَنْ طَغٰى ﴿۳۷﴾ وَاٰثَرَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا ﴿۳۸﴾ فَاِنَّ الْجَحِيْمَ هِىَ الْمَاْوٰى ﴿۳۹﴾ وَاَمَّا مَنْ

او زمکه پس دَ دینه غوړه ولے ده هغه (۳۰) را ویستلی دی دَ هغے نه اوبه دَ هغے اوګیاګانے دَ هغے (۳۱) او غرونه او درولی دی الله تعالیٰ (۳۲) دپاره دَ فائدے ستاسو او دپاره دَ څارۏ ستاسو (۳۳) نو کله چه راشی هنګامه لویه (۳٤) په دغه ورځ یادوی انسان هغه عمل چه ده کړیدے (۳۵) او ښکاره به کړیشی جهنم هغه چا لره چه وینی ئے (۳٦) نو هغه څوك چه کړیده سرکشی (۳۷) او غوره کړیدے ژوند دُنیوی (۳۸) نو یقیناً جهنم دا ځائے دَ ورتللو دَ هغه دے (۳۹) او هغه څوك چه

[۳۰] دَ علوی دلیل نه روستو سفلی دلیل ذکرکوی ﴿دَحٰىهَا﴾ دَ حوَ، غوړولو(بسط)ته وئیلے شی اوبرابرول دَپاره دَ اوسیدلوته هم دَحوَ وئیلے شی ﴿بَعْدَ ذٰلِكَ﴾ (سوال) دَ دے ایت نه معلومیږی چه زمکه ئے دَ اسمانونونه روستوجوړه کړے ده او سورة بقره (۲۹) اوسورة حٰم سجده (۹) نه معلومیږی چه زمکه ئے مخکښ پیداکړیده ؟(جواب) ابن کثیر په تفسیر دَ سورة بقره کښ وئیلی دی چه پیدائش دَ زمکے مخکښ دَ اسمان نه، په دے کښ دَ علماؤ دَاختلاف نه خبرنه یم (یعنی اجماعی خبره ده) ماسیوا دَ هغے نه چه ابن جریر دَ قتاده نه روایت کړے دے او قرطبی په دے کښ توقف کړے دے اوابن عباس رضی الله عنهما نه دَ دے تپوس کړے شوے وؤ نو هغه جواب ورکړو چه زمکه دَ اسمان نه مخکښ پیداکړے شوے ده لیکن غوړولے شویده روستو دَ اسمان نه اوقرطبی دلته بله توجیه دا کړیده چه بَعدَ په معنیٰ دَ مع دے او معنیٰ دَ معیّت دا ده چه په پیدائش کښ دواړه ملګری دی اګرچه یو مخکښ اوبل روستو دے او دے ته تعقیب ذکری هم وئیلے کیږی۔

[۳۳،۳۲،۳۱] دا تفسیرِدَ دحوَ دے یعنی نهرونه اوغرونه ئے پکښ جوړ کړل، دَ مخلوق دَفائدے دَپاره تیاره کړے شوه ﴿مَآءَ هَا﴾ مراد دَ دے نه اوبه دَ چینو او کویانو وغیره دی چه دا اوبه په زمکے کښ امانت پرتے دی اوپه اصل کښ دا اوبه اسمانی دی ﴿وَمَرْعٰىهَا﴾ مراد دے نه هغه بوټی اونے دی چه دَ انسانانو منافع په هغے باندے موقوف دی یعنی دانے هر قسم، میوے هرقسم لرګی اوکپړے (جامے) او اُورچه دَ زمکے دَ لرګونه پیداکیږی او مالګه چه دَ اوبونه پیداکیږی۔

[۳٦،۳۵،۳٤] دا تخویف اخروی دے په ذکر دَ هیبتونو دَ قیامت سره تر(۳۹) پورے ﴿الطَّآمَّةُ﴾ دا په اصل کښ هغه سیلاب دَ اوبوته وئیلے شی چه کویان کندے وغیره هرڅه ډك کړی طم دفن کول او اوچت والی ته وئیلے کیږی نو دا نوم دَ قیامت دے یعنی داسے مصیبت چه په هرڅیز باندے به احاطه اوکړی او دَ هرمصیبت نه به اوچت وی ﴿لِمَنْ يَّرٰى﴾ مراد دَ دے نه هرصاحب دَ رؤیت دے که مؤمن وی اوکه کافر وی ځکه دَ دے نه روستو تفصیل دَ دواړه فریقو دے اومؤمن چه جهنم لره اُوینی نوقدرِدَ نعمت دَ جنت به ورسره ډیرشی۔

[۳۹،۳۸،۳۷] ﴿فَاَمَّا مَنْ طَغٰى﴾ دا جواب دے دَ فَاِذَا دپاره اوتقسیم دَ خلقودے دوه قسمونوته طاغی کافر اومؤمن کامل اوذکردَفاسق ئے په اکثرو اٰیاتونوکښ پټ ساتلے دے دپاره دَخوف دَهغه اودَ رجا دَ هغه﴿طَغٰى﴾دَ حدود شرعیونه تجاوزکول په حقوق الله اوحقوق العبادکښ، اوپه طغیان کښ انتهائی

خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ وَنَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوٰى ﴿۴۰﴾ فَاِنَّ الْجَنَّةَ هِيَ الْمَاْوٰى ﴿۴۱﴾ يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ السَّاعَةِ
اَيَّانَ مُرْسٰهَا ﴿۴۲﴾ فِيْمَ اَنْتَ مِنْ ذِكْرٰهَا ﴿۴۳﴾ اِلٰى رَبِّكَ مُنْتَهٰهَا ﴿۴۴﴾ اِنَّمَاۤ اَنْتَ مُنْذِرُ مَنْ يَّخْشٰهَا ﴿۴۵﴾ كَاَنَّهُمْ
يَوْمَ يَرَوْنَهَا لَمْ يَلْبَثُوْۤا اِلَّا عَشِيَّةً اَوْ ضُحٰهَا ﴿۴۶﴾

یره ئیے کړیده دَ او دریدلو دَ رب خپل نه او منع کړیدے ځان خپل دَ خواهش نه (٤٠) نو یقیناً جنت دا ځائے دَ ورتللو دَ هغه دے (٤١) تپوس کوی دوی ستانه په باره دَ قیامت کښ چه کله به وی او دریدل دَ هغے (٤٢) په څه کښ ئیے ته دَ یاداشت دَ هغے نه (٤٣) خاص ستا رب ته ګرځیدل دَ علم دَ هغے دی (٤٤) یقیناً ته ویروؤنکے دَ هغه چائیے چه ویریږی دَ قیامت نه (٤٥) ګویا چه دوی په کومه ورځ چه اوبه وینی قیامت لره (ګمان به او کړی) چه نه وؤ حصار شوی مګر مازیګرے یا ساخت دَ مازیګر پشان (٤٦)

درجه مراد ده چه هغه کفراوشرك دے ﴿وَاٰثَرَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا﴾ یعنی دَ دنیا په مینه کښ دومره منهمك شوے دے چه اخرت ئیے بالکل هیر کړے دے اودا عطف دَ سبب دے په مسبب باندے۔

[٤١،٤٠] دابشارت دے دویم قسم ته ﴿مَقَامَ رَبِّهٖ﴾ اودریدل مخامخ رب ته په ورځ دَ حساب کښ یا په دنیاکښ مراد دے یعنی په وخت دَ ګناه کولو کښ دَ اللّٰه تعالیٰ دَ پیښئی نه اویریږی اوګناه پریږدی یا قیام دَ رب په معنیٰ دَ علم اوقدرت دَ رب سره دے په مخلوق باندے یعنی ویره کوی چه اللّٰه تعالیٰ زما په سرحاضر دے اوقادر دے نودَګناهونونه ځان ساتی ﴿وَنَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوٰى﴾ دا عطف دَ مسبب دے په سبب باندے یعنی خوف سبب دَ منع کیدلو دَ ګناهونونه دے یعنی نفس اماره بالسوء لره دَ اتباع دَ خواهش بلکه دَ فکر او ارادے دَ خواهشاتونه منع کوی۔ سهل تستری وئیلی دی چه ترك دَ هویٰ چابی دَ جنت ده نودارنګ اتباع دَ هویٰ چابی دَ ګناهونوده۔

[٤٢] دا زجر دے په انکار دَ قیامت روستو دَ ذکرکولو دَ احوالو دَ هغے نه ۔

[٤٥،٤٤] ﴿اِلٰى رَبِّكَ﴾ یعنی دَ چانه چه تپوس دَ قیامت په باره کښ او کړے شی نو هغه ئیے راجع کوی اللّٰه تعالیٰ ته او علم دَ دے په اللّٰه تعالیٰ پورے خاص دے لکه په سورة لحم سجده (٤٧)او سورة اعراف (١٨٧) کښ ذکرشوی دی ﴿اِنَّمَاۤ اَنْتَ مُنْذِرُ﴾ اوشان دَ منذردَپاره نفس علم دَ قیامت دَ راتللوپه دلیلونو سره کافی دے او هرچه عِلم دَ وختِ معینه دے نوهغه دَ نذیر دَپاره هیڅ ضروری نه دے ﴿مَنْ يَّخْشٰهَا﴾ تخصیص دَ دوی دَ دے وجے نه دے چه دَ انذارنه فائده دَ خشیت والی (یریدلو) اخلی لکه په سورة یس(١١) کښ دی۔

[٤٦] دا جواب دے په بله طریقه سره یعنی دوی خو سوالونه کوی دَ قیامت په باره کښ دَ دے وجے نه چه دَ دنیا ژوند ورته ډیر اوګڼ ښکاره کیږی۔ لیکن هرکله چه دوی قیامت او وینی نو فیصله به اوکړی چه دَ دُنیا عمرخونیمه ورځ وؤ ﴿عَشِيَّةً﴾ دَ ماسپښین نه ترغروب دَ نمر پورے وخت ته وئیلے شی۔ ﴿اَوْ ضُحٰهَا﴾ ها ضمیر راجع دے عشیةً ته (سوال) ضحا دَورځے ټکړه ده دَ طلوع دَ نمرنه ترزوال پورے نواضافت ئیے عشیةً ته ولے اوشو؟ (جواب) دا اضافت دَ وجے دَ ادنیٰ ملابست نه دے اواشاره ده چه وخت دَ ضحیٰ برابر دے (تقریباً) دَ وخت دَ عشیةً سره یعنی نیمه ورځ ده۔

سُوْرَةُ عَبَسَ (۸۰) مَكِّيَّةٌ (۴۲) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۴۲ رُكُوْعَاتُهَا ۱

عَبَسَ وَتَوَلّٰٓى ۝۱ اَنْ جَآءَهُ الْاَعْمٰى ۝۲ وَمَا يُدْرِيْكَ لَعَلَّهٗ يَزَّكّٰٓى ۝۳ اَوْ يَذَّكَّرُ فَتَنْفَعَهُ الذِّكْرٰى ۝۴ اَمَّا

خفه شو اومخ ئے اوګرځوؤ (۱) دَ دے وجے نه چه راغے ورته ړوند (۲) او څه ځیز تاله پوهه درکړیده چه کیدیشی چه دے به پاك شی (۳) یا به نصیحت واخلی نو نفع به ورکړی دهٗ ته نصیحت (٤) هغه

سورة عبس

دے ته سورة السفر او سورة الاعمیٰ او سورة الصاخة هم وئیلے شی۔

ربط : دَ دے سورة دَ مخکښ سورة سره په ډیرو وجوهو سره دے اوله وجه دا ده چه په هغه سورة کښ تخویف دنیوی وؤ دَپاره دَ منکرینونوپه دے سورة کښ سخت زجر دے هغوی ته ۔ دویمه وجه دا ده په هغه سورة کښ ذکر اوشو دَ دوه فریقونو په دے سورة کښ فرق ذکرکوی په اعتبار دَ فائِدے اخستلو دَ قرآن نه اوضد کول دَ هغے سره۔

دعویٰ دَ دے سورة : اثبات دَفرق په مینځ دَ دوه فریقو کښ دے په اخرت کښ چه دَ هغه فرق اثربه دَ دوی په مخونوکښ بنکاره شی ځکه چه په دنیا کښ دَ دوی فرق وؤ په باره دَ قرآن کښ او دارنګ ذکرکوی فراردَ یو بل نه په اخرت کښ ځکه چه په دنیا کښ ئے حقوق دَیوبل ضائع کړی وؤ۔ په دے سورة کښ ئے اسماء حسنیٰ نه دی ذکرکړی لیکن صفاتِ فعلیه دَ اللّٰه تعالیٰ ئے یؤولس ذکرکړی دی۔

خلاصه دَ سورة : اول ئے ذکرکړے دے صفت دَ نبی ﷺ په باره دَ دعوت الی القرآن کښ په هرقسم مانع باندے دَخفه کیدلو۔ بیائے ذکرَ ادب دَ دعوت کړے دے چه هغه فرق کول دی په مینځ دَ منیب او معاندکښ تر(۱۰) پورے بیا ترغیب دے قرآن ته په طریقه دَ عموم سره (چه په دے کښ دَ چا خصوصیت نشی کیدلے) په پنځه وجوهو سره تر (۱٦) پورے بیا سخت زجردے په منکرینودَ بعث بعد الموت باندے په ذکرَدَ لس احوالودَ قیامت تر(۲۳) پورے بیا تخویف دے په ذکرَ هیبتونودَ قیامت په پنځه وجوهو سره او بیا فرق دَ مخونو دَ فریقینوذکردے۔

تفسیر

[۱،۲] دا ایاتونه تر(۱۰) پورے اشاره ده واقعے (قصّے) دَ عبد اللّٰه بن ام مکتوم ﷺ ته چه نبی ﷺ مشغول وؤ په دعوت کولو کښ غټانو مشرکینوته په دے امید سره چه دوی اسلام راوړی او دَدوی په وجے سره به نور خلق هم اسلام راوړی نو په دغه وخت کښ ابن ام مکتوم ﷺ راغے (چه پیدائشی ړوند وؤ)او دَ رسول اللّٰه ﷺ سره ئے دینی خبرے شورو کړلے چه په هغے سره هغه دعوت دَمشرکانونه قطع شو په دے وجے سره نبی ﷺ خفه شو اومشرکان هم غصّه شول چه زمونږ خبرے دِے ړوند فقیر ولے قطع کړے نو دَ هغه په باره کښ دا ایاتونه نازل شول ﴿عَبَسَ وَتَوَلّٰٓى﴾۔

فائِده: دے ته عتاب اوزورنه وئیل مناسب نه دی بلکه تعلیم دَ ادب دَ دعوت دے اودَ هغے په ضمن کښ مدح دَ نبی ﷺ ده مدحه دا ده چه نبی ﷺ په دعوت کولوکښ دومره زیات حرص کوؤنکے وؤچه دَ خپل ملګری

مَنِ اسْتَغْنٰى ۝٥ فَاَنْتَ لَهٗ تَصَدّٰى ۝٦ وَمَا عَلَيْكَ اَلَّا يَزَّكّٰى ۝٧ وَاَمَّا مَنْ جَآءَكَ يَسْعٰى ۝٨ وَهُوَ يَخْشٰى ۝٩
فَاَنْتَ عَنْهُ تَلَهّٰى ۝١٠ كَلَّآ اِنَّهَا تَذْكِرَةٌ ۝١١ فَمَنْ شَآءَ ذَكَرَهٗ ۝١٢ فِيْ صُحُفٍ مُّكَرَّمَةٍ ۝١٣ مَّرْفُوْعَةٍ مُّطَهَّرَةٍ ۝١٤

وقف لازم

څوك چه بے پروا كړيدے ځان (٥) نو ته هغه ته ورمخكښ كيږے (٦) او نيشته په تا باندے ګناه كه نه شی دے پاك (٧) او هغه څوك چه راغلے دے تاته منډے وهی (٨) او هغه يره كوی (٩) نو ته دَ هغه نه غفلت كوے (١٠) داسے نه ده پكار يقيناً دا نصيحت دے (١١) نو دَ چاچه خوښه شی دا دے ياد كړی (١٢) (ليكلے شويدے) په پانړو عزت والا كښ (١٣) پورته كړے شويدی پاكے ساتلے شويدی (١٤)

صحابی په ركاوټ كيدلو باندے خفه وؤځكه دغه صحابی خوهسے هم ايمان راوړے وؤضرورت دا وؤچه دا نورخلق ايمان راوړی دَ دے وجے نه بعضِ اهلِ علمو وئيلی دی چه په اصل كښ بے ادبی ابن ام مكتوم كړے وه ليكن هغه معذوره وؤ دَ دے وجے نه هغه دَ زورنے حقدارنه وؤ۔ او تعليم دَ ادب دَ دعوت دا دے چه په داسے حال كښ چه تعارض راشی يعنی يوطرف ته دعوت وركول وی مالدار وعنادیانو مشركانوته اوبل طرف ته ارشاد وی يومنيب مسكين معذوره ملګری ته نو دا منيب به مقدم كولے شی په هغه عنادیانو باندے دَ هغوی دَ خفګان به هيڅ پرواه نشی كيدلے۔

[٤،٣] په دے ايا تونو كښ مقابله ذكر كوی دَ صفتونو دَ منيب اودَ عنادی دِپاره دَ دے چه رعايت كول دَ منيب پكار دی ﴿يَزَّكّٰۤى اَوْ يَذَّكَّرُ﴾ فرق دا دے چه تزكيه طهارة دَ نفس دے دَ حرامونه او تذكرعمل كول دی په اوامرو دَ اللّٰه تعالیٰ باندے او دارنګ تزكيه ايمان راوړل دی بغيرداحتياج نه وعظونواو دليلونوته او تذكير غوږ كيخودل دی وعظونو او دليلونوته او بيا په هغے باندے عمل كول دی۔

[٧،٦،٥] دا ذكرَ معاند دے ﴿اسْتَغْنٰى﴾ په سبب دَ مال سره چه دَ اللّٰه تعالیٰ دَ دين نه ځان بے پرواه كړی، باب استفعال ئے دَ دے دَپاره راوړوچه انسان په اصل كښ غنی نشی كيدے (غنی بے حاجته وی) ليكن ځان قصداً بے حاجته بنكاره كړی ﴿وَمَا عَلَيْكَ اَلَّا يَزَّكّٰى﴾ داتسلی ده نبی ﷺ ته يعنی دَ دوی تزكی په تا باندے واجب نه ده او دَ تزكيه نه قبلولو ګناه په تا باندے نيشته ته خوصرف تبليغ او دعوت كوه كه څوك ئے منی او كه نه منی۔

[١٠،٩،٨] دا صفات دَ انابت كوؤنكی دی ﴿يَسْعٰى﴾ كوشش كوی په طلب دَ هدايت او دَ علم كښ ﴿وَهُوَ يَخْشٰى﴾ يعنی داسعی دَ وجے دَ خشيت الٰهيه نه ده دَ غرضِ دنيوی دَپاره نه ده ۔

[١٢،١١] په دے ايا تونو كښ ترغيب الی القرآن دے ﴿كَلَّا﴾ يعنی دَ ضدی عنادی دَ وجے نه دَ انابت كوونكی نه مخ اړول نه دی پكار يا كلا په معنیٰ دَ حقا سره دے ﴿اِنَّهَا تَذْكِرَةٌ﴾ ابن كثير وئيلی دی چه دے ما قبل خصلت ته راجع دے چه دَ غنی او فقيراوادنیٰ اواعلیٰ برابری كوه دا تذكره ده او تنكير دَپاره دَ تعظيم دے ﴿ذَكَرَهٗ﴾ وعظ دِ واخلی دَ قرآن نه يا دِ يا دكړی قرآن لره اودَ دے اوامرو نواهيو اومواعظو لره۔ او هُوَ ضميرتذكره ته راجع دے په تاويل دَ ذكريا دَ قرآن يا دَ وحی سره۔

[١٦،١٥،١٤،١٣] په دے كښ ذكر دَ عظمت دَ قرآن دے چه هغه سبب دے دَ تذكره كيدلو دَپاره۔ اوپه دے كښ درے صفات دَ صحف او درے دَ ملائكوذكر كوی چه حاملانِ قرآن دی ﴿فِيْ صُحُفٍ﴾ يعنی دا

بِأَيْدِي سَفَرَةٍ ﴿١٥﴾ كِرَامٍ بَرَرَةٍ ﴿١٦﴾ قُتِلَ الْإِنسَانُ مَا أَكْفَرَهُ ﴿١٧﴾ مِنْ أَيِّ شَيْءٍ خَلَقَهُ ﴿١٨﴾ مِن نُّطْفَةٍ خَلَقَهُ فَقَدَّرَهُ ﴿١٩﴾ ثُمَّ السَّبِيلَ يَسَّرَهُ ﴿٢٠﴾ ثُمَّ أَمَاتَهُ فَأَقْبَرَهُ ﴿٢١﴾ ثُمَّ إِذَا شَاءَ أَنشَرَهُ ﴿٢٢﴾ كَلَّا

په لاسونو دَ لیکونکو ملائکو (۱۵) عزت منده نیکان (۱۶) تباه دے شی انسان څومره غټ کافر دے (۱۷) دَ څه څیز نه ئے پیدا کړیدے دے (۱۸) دَ نطفے نه ئے پیداکړیدے دے نو اندازه کړیدے (۱۹) بیا لار ئے ورته اسانه کړیده (۲۰) بیا ئے مړکړیدے نو قبر ته ئے بوتلے دے (۲۱) بیا کله چه اوغواړی نو را اوچت به کړی دهٔ لره (۲۲) یقینی ده چه نه

قرآن منقول دے دَ لوح محفوظ نه اولیکلے شویدے په صحف دَ ملائکو کښ یا مراد دَ صحف نه صحف ابراهیم اوموسیٰ دی په قرینه دَسورة اعلیٰ (۱۸،۱۹) سره ﴿مُكَرَّمَةٍ﴾ کرامت دَهغے په وجه دَ کرامت دَ نازلوؤنکی دے یعنی اللّٰه تعالیٰ کریم دے نو وحی دَ هغه هم کرامت والاده او کرامت دا دے چه دا صحیفے دَ علمونو او حکمتونونه ډکے دی ﴿مَرْفُوعَةٍ﴾ قدر اومنزلت ئے اوچت دے یا اوچتے په اووم اسمان کښ پرتے دی ﴿مُطَهَّرَةٍ﴾ دَ شکونو اوشبهاتونه او دَ لاسونو دَ شیطانانونه او دَ کمی زیاتی نه بچ ساتلے شوی دی ﴿سَفَرَةٍ﴾ جمع دَ سافرده اوسفرکتابت ته وئیلے شی یعنی ملائك کتابت کوی دَ دغه صحیفویا دَ عملونو دَ بندګانو یاجمع دَ سفیر ده نو ملائك سفیران دی په مینځ دَ اللّٰه تعالیٰ او دَ پیغمبرانوکښ۔ ﴿كِرَامٍ﴾ عزت مند په نیز دَ رب دَ دوی هغه خوك دے چه ځان بچ ساتونکی وی دَګناهونونه اوغوره کوؤنکی وی فائِدے دَبل چالره په خپله فائِده باندے دا ټول کرامات دی﴿بَرَرَةٍ﴾ جمع دَ بار ده پوره اطاعت کوؤنکے دَ اللّٰه تعالیٰ او رشتینی په اعمالوکښ۔ ابن کثیر لیکلی دی چه حامل دَ قرآن لره پکار دی چه دَ هغه ټول اعمال اواقوال دِ په طریقه دَ رُشد سره وی یعنی دَ سُنت سره دِ پوره موافق وی۔

[۱۷] روستو دَ ذکر دَ عظمت دَ قرآن نه زجر شدید دے مخالفت او عناد کوؤنکی ته دَ قرآن سره۔

[۱۸،۱۹] داتفصیل دَخلق دَ انسان اودلیل دے دَ ترکِ کفرنو کفرکول دَ دهٔ عجیبه دی﴿فَقَدَّرَهُ﴾ برابرول دَ اندامونواودَ قدو قامت اوتقدیردَسعید اوشقی اودَ اجل او رزق ته دا لفظ شامل دے لکه چه په سورة کهف (۳۷) اوسورة انفطار(۷) کښ دی۔

[۲۰] ﴿السَّبِيلَ﴾ مراد دَ دے نه لاردَ وتلودَ بچی ده دَ خیتے دَ مورنه چه هغه اللّٰه تعالیٰ اسانه کړیده، شربینی لیکلی دی چه بچے دَ مور په رحم کښ سربره اوخپے ئے کوزے وی لیکن په وخت دَ پیدائش کښ سرمخکښ اوخپے روستو شی دا اسانول دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه دی یا مراد دَ سبیل نه لار دَ هدایت اولار دَ ګمراهئی ده۔

[۲۱] ﴿ثُمَّ﴾ دلیل دے چه دَ پیدائش اودَ مرګ په وخت کښ اکثرفاصله وی او فا په فاقبره کښ اشاره ده چه دفن متصل پکاردے یعنی دَ غُسل، تجهیز، تکفین جنازے اودفن په کارونو کښ اسراع (تادی) پکارده لکه چه حدیث کښ دی (اسرعوا بالجنازة) ﴿أَمَاتَهُ﴾ دا دلیل دے چه مرګ هم په حکم اواختیارد اللّٰه تعالیٰ سره دے طبعی امرنه دے لکه چه دهریان وائی ﴿فَأَقْبَرَهُ﴾ قبره او اقبره کښ فرق دا دے چه اول په معنیٰ دَ دفن کولو په خپلولاسونو سره دے او دویم په معنیٰ دَ امرکولودے په دفن سره اودَ دفن دَپاره تیارول۔

لَمَّا يَقْضِ مَآ اَمَرَهٗ ﴿۲۳﴾ فَلْيَنْظُرِ الْاِنْسَانُ اِلٰى طَعَامِهٖٓ ﴿۲۴﴾ اَنَّا صَبَبْنَا الْمَآءَ صَبًّا ﴿۲۵﴾ ثُمَّ شَقَقْنَا
الْاَرْضَ شَقًّا ﴿۲۶﴾ فَاَنْۢبَتْنَا فِيْهَا حَبًّا ﴿۲۷﴾ وَّعِنَبًا وَّقَضْبًا ﴿۲۸﴾ وَّزَيْتُوْنًا وَّنَخْلًا ﴿۲۹﴾ وَّحَدَآئِقَ غُلْبًا ﴿۳۰﴾
وَّفَاكِهَةً وَّاَبًّا ﴿۳۱﴾ مَّتَاعًا لَّكُمْ وَلِاَنْعَامِكُمْ ﴿۳۲﴾ فَاِذَا جَآءَتِ الصَّآخَّةُ ﴿۳۳﴾ يَوْمَ يَفِرُّ الْمَرْءُ مِنْ اَخِيْهِ ﴿۳۴﴾

چه نه دے پوره کړے دهٗ حکم دَ اللّٰه تعالیٰ لره (۲۳) نو او دِ ګوری انسان خوراك خپل ته (۲٤) چه یقیناً راتوے کړلے مونږه اوبه په راتویولو سره (۲۵) بیا اوچوله مونږه زمکه په چولو سره (۲٦) نو زرغون کړے مونږ په هغے کښ دانے (۲۷) او انګور او ترکارئے (۲۸) او خونه او کجورے (۲۹) او باغونه ګور (ګنې) (۳۰) او میوے او ګیا (۳۱) دپاره دَ فائدے ستاسواو دپاره دَ څار وؤ ستاسو (۳۲) نو کله چه راشی غوږونه کنړوؤنکے (۳۳) په هغه ورځ به تختی هر سړے دَ ورور خپل نه (۳٤)

[۲۲] په دے کښ تذکیر دے په دوباره ژوند سره ﴿شَآءَ﴾ اشارده چه دَ بعث بعد الموت مقرر وخت دَ اللّٰه تعالیٰ نه سیوا بل چاته معلوم نه دے۔

[۲۳] دا زجر دے ﴿مَآ اَمَرَهٗ﴾ مراد دَ دے نه توحید اوایمان تفصیلی دے چه په قرآن کښ ذکر دے اونور احکامِ الٰهیه چه په کتاب اوسنت کښ ذکر دی۔

[۲٤] دَ دے ایت نه دلیل افاقی ذکرکوی روستو دَ دلیل انفسی نه چه مشتمل دے په لس انعاماتو باندے اوپه دے کښ ربوبیت دَ اللّٰه تعالیٰ ثابتوی چه اللّٰه تعالیٰ دَ انسانانودَ پالنے اصل ماده (چه خوراك دے) اودَ هغے اسباب پیداکړی اوپه دے کښ دَ هغه سره هیڅوك شریك نیشته دے۔ دارنګ په دے کښ اثبات دَ بعث بعد الموت دے چه څه رنګ اللّٰه تعالیٰ دَ زمکے نه دا مختلف ځیزونه راویستلی دی نو دارنګ هغه قادردے چه دَ دے زمکے نه دوباره انسان لره پیداکړی۔

[۲٦،۲۵]﴿صَبَبْنَا﴾ دَ دے نه ډیرباران مراد دے چه په هغے سره بوټی پیداکیږی ﴿ثُمَّ شَقَقْنَا﴾ یعنی کلکه زمکه په یو کمزوری تیغ سره او شلوی او هغه تیغ ترینه را اوباسی۔

[۳۱،۳۰،۲۹،۲۸،۲۷]﴿اَبًّا﴾هغه بوټی چه دَمیوؤنه علاوه دی دَزمکے نه راخیژی لکه ګیاه دَځارو وغیره اومفسرینودلته دوه روایات نقل کړیدی اول روایت دا دے چه ابوبکرؓ دَ دے په تفسیرکښ توقف کړے وؤاودویم داچه عمرؓ دے ته تکلف وئیلے وؤ لیکن دَ سند په لحاظ سره اول روایت منقطع دے او دویم روایت صحیح متصل دے لیکن مقصد په دواړوکښ (واللّٰه اعلم) رد دے په هغه چا باندے چه دَ الفاظو په تحقیق کښ وخت صرف کوی او مقصد دَ قرآن کریم باندے فکرنه کوی۔

[۳۲] روستو دَ ذکر دَ امورِ دنیویه نه ذکرکوی حال دَ قیامت دَپاره دَ دے چه امور دَ دنیا دَ اخرت په تیارئے کښ صرف کړے شی ﴿الصَّآخَّةُ﴾ مراد دَ دے نه دویمه شپیلئے وهل دی چه دَ هغے اواز غوږونه کنړوی او په زور سره اوریدلے کیږی۔

[۳۷،۳٦،۳۵،۳٤،۳۳] دا تختیدل دَ دے وجے نه کوی چه په دنیاکښ ئے حقونه ضائع کړی وؤنوچه دَ هغے مطالبه رانه اونکړی او وجه دَ ترتیب هم دا ده چه زیات حقوق دَ رورخورلے کیدیشی بیا دَ مور ځکه چه هغه کمزورے ده بیا دَ پلار چه دَ هغه حقونه ډیردی او په حال دَ بوډاوالی کښ هغه ډیر ضائع

وَأُمِّهٖ وَاَبِيْهِ ﴿٣٥﴾ وَصَاحِبَتِهٖ وَبَنِيْهِ ﴿٣٦﴾ لِكُلِّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ يَوْمَئِذٍ شَاْنٌ يُّغْنِيْهِ ﴿٣٧﴾ وُجُوْهٌ
يَّوْمَئِذٍ مُّسْفِرَةٌ ﴿٣٨﴾ ضَاحِكَةٌ مُّسْتَبْشِرَةٌ ﴿٣٩﴾ وَوُجُوْهٌ يَّوْمَئِذٍ عَلَيْهَا غَبَرَةٌ ﴿٤٠﴾ تَرْهَقُهَا قَتَرَةٌ ﴿٤١﴾ اُولٰٓئِكَ
هُمُ الْكَفَرَةُ الْفَجَرَةُ ﴿٤٢﴾ ع ١٥

او دَ مور او دَ پلار خپل نه (٣٥) او دَ ښځې خپلے نه او دَ ځامنو خپلو نه (٣٦) دپاره دَ هر سړی دَ دوی نه په دغه ورځ یو فکر دے چه مشغول کړے به ئیے وی دے (٣٧) بعضِ مخونه به په دغه ورځ رنړا کوؤنکی وی (٣٨) خندا به کوی خوشحاله به وی (٣٩) او بعضِ مخونو پدغه ورځ به په هغے باندے دوړے وی (٤٠) پټ کړی به وی هغے لره تور والی (٤١) دغه کسان دوی کافران نافرمان دی (٤٢)

کړیشی، بیا دَ ښځے چه دَ مینے دَ وجے نه خو حقونه اداکوی خو دَ هغے دَکمزوروالی دَوجے نه یا دَ بلے ښځے دَوجے نه حقونه ئیے برباد کړے وی اوبیا دَ ځامنوحقونه ئیے برباد کړی وی هغوی ته ئیے دینی تربیت نه دے ورکړے ﴿شَاْنٌ يُّغْنِيْهِ﴾ حدیث دَ ابن عباس رضی اللّٰه عنهماکښ مرفوعاً وارد دی چه انسانان به ورځ دَ قیامت کښ راجمع کړیشی بغیرد پیزار اوبغیرد جامونه اوناسنته به وی نو بی بی دَ رسول اللّٰه ﷺ تپوس اوکړوچه یارسول اللّٰه ایا دَ یوبل عورت ته به نه کتوری نو هغوی اوفرمائیل چه هغه حالت ډیر مشغولوؤنکے دے او دا ایت ئیے اولوستلو۔

[٣٩،٣٨] تقسیم دے دَ خلقوپه قیامت کښ دوه قسمونوته په دے ایاتونو کښ قسم اول ته بشارت دے۔﴿مُسْفِرَةٌ﴾ رنړا والابه وی او دَ دے یوسبب په احسن طریقه سره اودس کول دی لکه چه صحیح حدیث کښ راغلی دی او په سورة العمران (١٠٦) کښ هم دی ﴿مُسْتَبْشِرَةٌ﴾ یعنی دَ خوشحالئے اثار به دَ مخ په څرمن کښ ښکاره کیږی۔

[٤٠،٤١،٤٢] په دے کښ حال دَ هغه چا ذکرکوی چه په سورة نازعات کښ دَ هغوی صفت ئیے په امّامن طغیٰ، سره ذکرکړے وؤ دَ هغوی دَپاره تخویف اخروی دے ﴿عَلَيْهَا غَبَرَةٌ﴾ دا مقابل دَمسفرة دے۔ ﴿قَتَرَةٌ﴾ تورروالی ته وئیلے شی چه دوړه او تورروالے چه په مخ باندے جمع شی نوډیر قبیح ښکاریږی اوبل قول دادے چه قتره هم دوړے ته وئیلے کیږی لیکن هغه دوړه چه دَ زمکے نه اسمان طرف ته خیژی هغه قتره ده او کومه چه دَ برے نه زمکے طرف ته راکوځیږی نو هغه غبره ده یعنی دواړه قسمونو دوړه به ورباندے پرته وی ﴿الْكَفَرَةُ الْفَجَرَةُ﴾ یعنی په اعتبار دَ عقیدے سره کافر او په عمل سره فاجردی لکه څنګه چه دوی دَ کفر سره فجور جمع کړے دے نو دَ دوی په سزاکښ به هم غبره دَ قتره سره یوځائے کړے شی۔

سُوْرَةُ التَّكْوِيْر (۸۱) مَكِّيَّةٌ (۱۰۴) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۲۹ رُكُوْعَاتُهَا ۱

اِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ ۝۱ وَاِذَا النُّجُوْمُ انْكَدَرَتْ ۝۲ وَاِذَا الْجِبَالُ سُيِّرَتْ ۝۳ وَاِذَا الْعِشَارُ عُطِّلَتْ ۝۴ وَاِذَا

هرکله چه نمر را او نغښتلے شی(۱) اوهرکله چه ستوری خړشی (۲) او هرکله چه غرونه روان شی (۳) اوهرکله چه دَ لسو میاشتو بلار یے اوښے ازاد ے پریخودلے شی (٤) او هر کله

سورة التكوير

او دَ دے بل نوم اذَا الشمس كوِّرت دے۔

ربط: دَ دے سورة دَ مخکښ سره په ډیرو وجوهو سره دے اوله وجه داده چه مخکښ سورة کښ اثبات دَ بعث بعد الموت وؤ نو په دے سورة کښ دَ هغے حالات ذکرکوی ۔دویمه وجه دا ده چه په هغه سورة کښ راتلل دَ صاخه (قیامت) ذکرشول نو په دے سورة کښ مقصد دَ بعث ذکرکوی چه هغه ملاقات دَ انسان دے دَ خپل عمل سره۔ دریمه وجه دا ده چه په هغه سورة کښ زجر وو منکرینو دَ قیامت ته او پدے سورة کښ زجر دے منکرینو دَ رسول او قرآن ته۔

دعویٰ دَ دے سورة: تخویف دے په ذکر دَ احوالو دَ قیامت سرهٔ دَ ذکرد مقصد دَ قیامت نه چه ملاقات دَ انسان دے خپلو عملونوسره اوسبب دَ تخویف انکاردے دَ هغه قرآن نه چه جبرئیل امین راوړے دے په هغه رسول ﷺ باندے چه په غیب باندے ضنین نه دے او په دے سورة کښ یو اسم دَ اللّٰه تعالیٰ ذکر دے یعنی رب العالمین۔

خلاصه دَ سورة داده: چه دَ قیامت دولس حالات ذکرکوی چه شپږ دَ هغے نه په وخت دَ فنا کښ مخکښ دَ بعث بعد الموت نه دی اوشپږپه وخت دَ بعث بعد الموت کښ او بیائے مقصد دَ قیامت ذکرکړے دے تر(١٤)پورے او بیا درے شواهد دی په صدق دَ رسول اوقرآن باندے په ذکرد شپږصفتونودَ جبرئیل علیه السلام اوپه درے حالاتودَ رسول اللّٰه ﷺ سره په لس ایاتونوکښ تر(٢٤) پورے بیا ذکرد درے صفاتودَ قرآن دے (٢٥،٢٧،٢٨)کښ اوپه مینځ کښ په (٢٦)کښ زجردے اوعجزدَ انسان ذکرکوی چه دَ دهٔ مشیت هم تابع دے دَ میشت دَ اللّٰه تعالیٰ اودا متعلق دے دَ زجرسره۔ اوحدیث دَ ترمذی کښ راغلی دی چه څوك اوس غواړی چه ورځ دَ قیامت داسے اووینی لکه دَ سترګو لیدل نو اودِ لولی دا دریواړه سورتونه اذا الشمس کورت، او اذا السماء انفطرت، او اذا السماء انشقت۔

تفسير

[۱] ﴿كُوِّرَتْ﴾ دَ تکویرنه دے را جمع کول دَ اجزاؤ دَ یوځیز او رانغښتل لکه چه پکړئ را نغښتے شی په سرباندے نو دغسے نمربه راغونډ کړے شی او رنړا به ئے زائله کړے شی بیا به اوغورځول شی۔

[۲] دا دویم حال دے ﴿انْكَدَرَتْ﴾ انکدار، اثراو رنړا ختم کیدل او راغورځیدل او را دوړیدل درے واړه معانے صحیح دی۔

[۳] دا دریم حال دے مخکښ ئے احوال علویه ذکرکړل نو دا احوال وسطیه او سفلیه ذکرکوی۔

وَالصُّبْحِ إِذَا تَنَفَّسَ ﴿۱۸﴾ إِنَّهُ لَقَوْلُ رَسُولٍ كَرِيمٍ ﴿۱۹﴾ ذِي قُوَّةٍ عِنْدَ ذِي الْعَرْشِ مَكِينٍ ﴿۲۰﴾ مُطَاعٍ ثَمَّ
أَمِينٍ ﴿۲۱﴾ وَمَا صَاحِبُكُمْ بِمَجْنُونٍ ﴿۲۲﴾ وَلَقَدْ رَآهُ بِالْأُفُقِ الْمُبِينِ ﴿۲۳﴾ وَمَا هُوَ عَلَى الْغَيْبِ بِضَنِينٍ ﴿۲۴﴾ وَمَا هُوَ

او قسم دے په صبا باندے کله چه ساه واخلی (۱۸) یقیناً دا پیغام خامخا دَ رسول عزت والا دے (۱۹) قوت والا دے په نیز دَ خاوند دَ عرش مرتبے والا دے (۲۰) خبرے منلے کیدیشی هلته امانتدار دے (۲۱) او نه دے ستاسو ملګرے لیونے (۲۲) او یقیناً لیدلے دے هغه لره په کنارو (غاړو) بنکاره کښ (۲۳) او نه دے دے په وحی بیانولو کښ بخل کوؤنکے(۲٤) او نه ده دا

[۱۹] دا جوابِ قسم دے اومقصد په دے کښ اثبات دَ صدق دَ قرآن دے اومناسبت دَ قسم او جواب قسم دا دے لکه چه ستوری پټیږی او بنکاره کیږی او چلیږی نو دارنګ ایاتونه اوسورتونه دَ قرآن دی چه په قسطونو سره دنیاوالوته راروان وی اوبنکاره کیږی روستو دَ پټ والی دَ دے نه په علم دَ اللّٰه تعالیٰ کښ۔ اودارنګ چه توره شپه لاړه شی او رنړا ورځ شی نو دارنګ دَ قرآن کریم په راتللو تیرے دَ کفراو دَ شرك او دَ جهل لاړلے او رنړا دَ ایمان او اسلام قائمه شوه اودغه مثالونه یقینی محسوسی دی نو دارنګ قران هم یقینی دے ﴿رَسُولٍ﴾ مراد دَ دے نه رسول ملکی دے یعنی جبرئیل علیه السلام اوقول په معنیٰ دَ پیغام او تبلیغ دے ﴿كَرِيمٍ﴾ دَ شرافت صفتونه پکښ ظاهری او باطنی راجمع دی دَ شیطان پشان خبیث او ذلیل نه دے او دلیل په کرامت دَ جبرئیل باندے کرامت دَ الفاظو دَ قرآن دے۔

[۲۰] ﴿ذِي قُوَّةٍ﴾ په دے کښ اشاره ده چه شیطانان دهٔ ته نزدے نشی راتللے اوپه وخت دَ وحی راوړلو کښ دَ دهٔ مقابله نشی کولے۔

[۲۱] ﴿ثَمَّ﴾ دَپاره دَ ظرف دے مراد ترینه عالَمِ بالا دَ اسمانونو دے او دا صفت دلالت کوی چه جبرئیل لکه چه دَ اللّٰه تعالیٰ په نیز عزت مند دے نو داسے دَ ټولوملائکو په نیزهم معززدے ځکه چه ټول ئے اطاعت کوی ﴿أَمِينٍ﴾ یعنی په وحی کښ هیڅ کمے زیاتے نه دے کړے او پوره پوره ئے اداکړیده۔

[۲۲،۲۳،۲۴] دا تزکیه دَ رسولِ بشری ده روستودَ تزکیے دَرسول ملکی نه اوتصحیح اوتوثیق دَسند دَ قرآن کریم دے ﴿وَمَا صَاحِبُكُمْ﴾ صاحب په معنیٰ دَخیرخواه اوناصح دے یا هغه چه دَ قوم ستاسونه دے﴿عَلَى الْغَيْبِ﴾ دَ دے نه مراد وحی دَ قرآن ده اودے ته غیب اضافی وئیلے شی ځکه چه په حواسواوپه عقل سره ادراك نشی کیدے بلکه دا قرآن په سبب دَ وحی سره نبی ﷺ ته رالیږلے شوے دے﴿بِضَنِينٍ﴾ په ضاد سره په معنیٰ دَبخیل دے یعنی نبی ﷺ وحی نه پټه وی بلکه هرچاته ئے پوره بنکاره کوی یعنی دیرسخی دے اوپشان دَکاهن نه دے چه بعضِ خبرونه پټوی دَپاره دَ طلب دَ اُجرت اودَ عزت په خلقو کښ۔

بِقَوْلِ شَيْطٰنٍ رَّجِيْمٍ ﴿۲۵﴾ فَاَيْنَ تَذْهَبُوْنَ ﴿۲۶﴾ اِنْ هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿۲۷﴾ لِمَنْ شَآءَ مِنْكُمْ اَنْ يَّسْتَقِيْمَ ﴿۲۸﴾
وَمَا تَشَآءُوْنَ اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۲۹﴾

وینا دَ شیطان رټلے شوی (۲۵) نو کوم خوا ځئے تاسو (۲۶) نه دے دا مګر نصیحت دے دپاره دَ ټولو خلقو (۲۷) دپاره دَ هغه چاچه غواړی ستاسونه دا چه برابر روان شی (۲۸) او تاسو خونه غواړئے مګر هله چه اوغواړی اللّٰه تعالیٰ چه رب دَ ټولو خلقو دے (۲۹)

[۲۶] دا زجردے یعنی دَ اللّٰه تعالیٰ دَ رسول اودَ کتاب نه بل کوم شخص او کتاب ته تاسو ورځئ یعنی دَ دهٔ نه حقه بله لارکومه ده؟

[۲۷] داترغیب دے قرآن ته هُوَضمیرقرآن ته راجع دے یا مضمون دَ دے سورة ته راجع دے ﴿ذِكْرٌ﴾ یادوؤنکے دے دَ توحید اودَ احکامو دَ اللّٰه تعالیٰ او وعظ او نصیحت دے دَپاره دَ ویرے ورکولو دَ قیامت نه۔

[۲۹،۲۸] په اول ایت کښ شرط دَ ذکر ئیے راوړوچه هغه اراده اوطلب دَ حق دے یعنی قرآن کښ فائِده ده طلب کوونکی دَ هدایت لره او ﴿لِمَنْ شَآءَ﴾ رد دے په جبریه باندے یعنی دَ انسان دَپاره مشیت او اراده اوفعل شته او په دویم کښ رد دے په قدریه معتزله باندے چه اراده دَ انسان مستقله ګنړی۔

سُوْرَةُ الْاِنْفِطَارِ (۸۲) مَكِّيَّةٌ (۸۲) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۱۹ رُكُوْعَاتُهَا ۱

اِذَا السَّمَآءُ انْفَطَرَتْ ۝۱ وَاِذَا الْكَوَاكِبُ انْتَثَرَتْ ۝۲ وَاِذَا الْبِحَارُ فُجِّرَتْ ۝۳ وَاِذَا الْقُبُوْرُ بُعْثِرَتْ ۝۴

هر کله چه اسمان اوچوی (۱) او هر کله چه ستوری او دوړیږی (۲) او هر کله چه دریابونه اوبیولے شی (۳) او هر کله چه قبرونو والا به را او چت کړیشی (٤)

سورة الانفطار

اودیته سورة انفطرت او اذا السماء انفطرت اوسورة المنفطره هم وئیلے شی۔

ربط: دَ دے سورة دَ ماقبل سره په ځووجوهوسره دے اوله وجه دا ده چه په هغه سورة کښ زجر وؤ په این تذهبون سره او په دے سورة کښ زجر دے په ماغرك اه سره، دویمه وجه داچه په هغه سورة کښ دولس احوال ذکر وو او په دے سورة کښ دَ هغے اختصارکوی په ځلورو حالاتو سره۔

دعویٰ دَ سورة : اثبات دَ قیامت دے په ملاقات دَ انسان سره دَ هغه کارونوچه کړے وی او هغه چه پریخودلے وی سرهٔ دَ زجرنه په ارتکاب دَ ګناهونو په سبب دَ اغترار سره په احساناتو دَ رب العالمین اوپه نسیان دَ یوم الدین سره۔ او په دے سورة کښ درے اسماء حسنیٰ او پنځه صفات فعلیه دَ اللّٰه تعالیٰ ذکردی۔

خلا صه دَ سورة دا ده: اول ځلور احوال دَ قیامت ذکرکوی بیا دعویٰ دَ سورة تر(۵) پورے بیا زجر اول دے په اغترار دَ انسان په خپل رب باندے چه دَ هغه پنځه صفتونه ئے ذکرکړی دی تر(۸) پورے بیا دویم زجردے په تکذیب سره، سرهٔ دَوجود دَ کراماً کاتبین نه اودَ هغوی ځلور صفتونه ئے ذکرکړی دی تر(١٦) پورے۔ بیا بشارت او تخویف اخروی دے په ذکر دَ درے حالاتودَ منکرینواو په درے حالاتو دَ یوم الدین سره او اخری حال ئے رد دَ شرك فی التصرف دے په اخرت کښ هم۔

تفسیر

[۲،۱] دا اول اودویم حال دے ﴿اِذَا السَّمَآءُ﴾ ټول اسمانونه مراد دی ﴿انْفَطَرَتْ﴾ فَطر تازه چودلوته وئیلے شی یعنی اول ځل به اوچوی چه دَ دے نه مخکښ پکښ فطورنه وؤ۔ لکه چه دَ یوبچی اول غاښ را اوخیژی نوعرب وائي فطرناب البعیر ﴿انْتَثَرَتْ﴾ بے ترتیبه رادوړیدل دَ ستورونو اسمان به ترینه خالی شی۔

[۳] په دے کښ دریم حال دے اوترقی ده دَ ماقبل نه۔ په هغے کښ سُجِّرت (ډك به کړے شی) ذکر وؤ او دلته تفجیر دے یعنی په مخ دَ زمکه باندے به روان کړے شی اویوبل سره به هم ګدکړے شی۔

[٤] په دے کښ ځلورم حال دے هغه درے حالات دَ وخت دَ فنا وؤاودا حال دَ بعث بعد الموت دے اوپه دے کښ هم دَ ماقبل نه ترقی ده هلته صرف دَموءٗ ده ذکر وؤ اودلته ئے دَ ټولو اهل قبور بعث ذکرکړے دے ﴿بُعْثِرَتْ﴾ چه اونړولے شی اولا ندے باندے کړے شی اومړی ترینه ژوندی راویستلے شی۔

عَلِمَتْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ وَاَخَّرَتْ ۝۵ يٰٓاَيُّهَا الْاِنْسَانُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ الْكَرِيْمِ ۝۶ الَّذِيْ خَلَقَكَ فَسَوّٰىكَ
فَعَدَلَكَ ۝۷ فِيْٓ اَيِّ صُوْرَةٍ مَّا شَآءَ رَكَّبَكَ ۝۸ كَلَّا بَلْ تُكَذِّبُوْنَ بِالدِّيْنِ ۝۹ وَاِنَّ عَلَيْكُمْ لَحٰفِظِيْنَ ۝۱۰
كِرَامًا كَاتِبِيْنَ ۝۱۱ يَعْلَمُوْنَ مَا تَفْعَلُوْنَ ۝۱۲ اِنَّ الْاَبْرَارَ لَفِيْ نَعِيْمٍ ۝۱۳ وَّاِنَّ الْفُجَّارَ لَفِيْ جَحِيْمٍ ۝۱۴

پوهه به شی هر نفس په هغه عمل چه مخکښ ئے لیږلے دے او روستو ئے پریخودلے دے (۵) اے انسانه څه ټیز دهوکه درکړیده تاته په رب ستا چه عزت والا دے (٦) داسے ذات دے چه پیدا کړے ئے ته نو برابر ئے کړے نو نیغ قد والا ئے کړے (۷) په هر شکل چه هغه غوختل نو ته ئے جوړ کړے ئے (۸) هیڅرے داسے نه ده پکار بلکه تاسو تکذیب کوئے دَ ورځ دَ جزاء (۹) او یقیناً په تاسو باندے مقرر دی حفاظت کوؤنکی ملائك (۱۰) عزتمند لیکونکی (۱۱) پوهیږی په هغه څه چه تاسو ئے کوئے (۱۲) یقیناً نیکان خلق به خامخا په نعمتونو کښ وی (۱۳) او یقیناً بدکار خلق به خامخا په اور کښ وی (۱٤)

[۵] دا پنځم حال دے اوجواب دے دَ اذَا او دعویٰ دَ سورة ده ﴿عَلِمَتْ نَفْسٌ﴾ فرق په مینځ دَ سورة تکویر(۱٤) او دَ دے ایت کښ دا دے چه هلته علم تفصیلی مراد دے ځکه چه هلته دَ صحیفو نشر او تقسیم هم ذکروؤ اوپه هغے سره علم تفصیلی حاصلیږی او دلته علم اجمالی مراد دے ۔ دویم فرق دا دے چه په هغه سورة کښ دَ علم نه مراد علم دَ حقیقت دَ هغه عملونو دے چه انسان کړیدی هغه ښه دی اوکه ناکاره دی او دلته مراد دَ علم نه علم دَ جزاء او دَ حساب او دَ عاقبت دَ عملونو دے ﴿مَاقَدَّمَتْ﴾ نیك اعمالونه اشاره ده ﴿وَاَخَّرَتْ﴾ ناکاره عملونه مراد دی۔

[٦] په دے کښ سخت زجردے اودا به ورته وئیلے شی په ورځ دَ قیامت کښ یعنی هرکله چه خبرشی په جزاء دَ خپلو عملونوباندے نوافسوسونه به کوی نوورته به اوئیلے شی چه ماغرَّك یعنی فی الدنیا۔ یا داخطاب په دنیاکښ هرانسان ګناهګارته دے که کافردے اوکه ګنهګارمسلمان دے ﴿مَاغَرَّكَ بِرَبِّكَ﴾ مراد دَ دهوکه کیدلونه کفراوشرك اوتکذیب اوګناهونه کول دی په دے وجے اوګمان سره چه اللّٰه تعالیٰ عذاب زرنه ورکوی یا په دے وجه سره چه دَ هغه صفت غفور او رحیم دے یا په دے ګمان سره چه اللّٰه تعالیٰ زما په حال علم نه لری یا په دے زعم چه اللّٰه تعالیٰ هرحاجت پخپله نشی پوره کولے یا پدے وجے سره چه اللّٰه تعالیٰ کریم دے۔

[۸،۷] په دے دواړه ایاتونوکښ تفصیل دَ کرم دَ اللّٰه تعالیٰ دے ﴿خَلَقَكَ﴾ مراد ترینه پیدائش دے دَ خاورو او دَ نطفے نه لکه چه سورة عبس کښ تیرشو ﴿فَسَوّٰىكَ﴾ پوره اندامونه اولاس خپے سترګے وغیره ئے برابرجوړ کړیدی ﴿فَعَدَلَكَ﴾ په تخفیف سره معنیٰ دا ده چه (اے انسانه) اړولے دے تالره هر صورت اوشکل ته چه دَ اللّٰه تعالیٰ خوښ دے یا تخفیف په معنیٰ دَ تشدید دے یعنی قدو قامت او اندامونه ئے معتدل جوړ کړی دی نه ډیردنګ اواوګد اونه ډیرلنډ ﴿فِيْٓ اَيِّ صُوْرَةٍ مَّا شَآءَ﴾ اَیِّ صُوْرَةٍ، خائسته شکل یا ناکاره، تور، سپین یاغنم رنګے مذکریا مؤنث مشابه ډپلار یا دَ مور سره۔

[۹] دا دویم زجردے او دَ (مَاغَرَّكَ) ډپاره تفسیر دے یعنی اغترار دا دے چه تکذیب کوی۔

[۱۲،۱۱،۱۰] دا مبالغه ده په زجرکښ چه سرهٔ دَ دے نه چه په تاسو باندے داسے ملائك مقرر دی او

يَّصْلَوْنَهَا يَوْمَ الدِّيْنِ ﴿١٥﴾ وَمَا هُمْ عَنْهَا بِغَآئِبِيْنَ ﴿١٦﴾ وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا يَوْمُ الدِّيْنِ ﴿١٧﴾ ثُمَّ مَآ اَدْرٰىكَ مَا
يَوْمُ الدِّيْنِ ﴿١٨﴾ يَوْمَ لَا تَمْلِكُ نَفْسٌ لِّنَفْسٍ شَيْـًٔا ؕ وَالْاَمْرُ يَوْمَئِذٍ لِّلّٰهِ ﴿١٩﴾ ع

ورننوځی به هغے ته په ورځ د جزاء (۱۵) او نه دی دوی د هغے نه پټیدونکی (۱۶) او څه پوهه کړے ئیے ته چه څه ده ورځ د جزاء (۱۷) بیا څه څیز پوهه کړے ئیے ته چه څه ده ورځ د جزاء (۱۸) هغه ورځ چه نه به مومی اختیار هیڅ نفس بل نفس لره د څه څیز او ټول اختیار په هغه ورځ د الله تعالی دے (۱۹)

تاسو تکذیب کوئے ﴿لَحٰفِظِيْنَ﴾ مراد د دینه حفاظت کوؤنکی د عملونود انسانانودی یا عمومی ساتنه کوؤنکی ﴿يَعْلَمُوْنَ مَا تَفْعَلُوْنَ﴾ د دے نه معلومیږی چه کوم کارونه په فعل (عمل) کښ نه وی راغلی لکه پتے ارادے اونیتونه نو د هغے نه دا ملائك خبرنه لری او خطاب عامه (علیکم) دلالت کوی چه دا ملائك په کافرانو او په انبیاء علیهم السّلام باندے هم مقرر دی۔

[۱۳، ۱۴، ۱۵] روستو د ذکر د کتابت د اعمالونه(چه هغه دوه قسمونه دی) دوه قسمونه د عاملینوذکرکوی یو قسم ته بشارت دے اودویم ته تخویف اخروی دے ﴿لَفِيْ نَعِيْمٍ﴾ بے شماره نعمتونه د جنت دی او ابن قیم په بدائع التفسیرکښ لیکلی دی چه داحالت په دنیا اوبرزخ اوقیامت درے واړو کښ دے په دنیا کښ د نعیم نه مراد نعمت، تسلّی د زړه ده او قناعت دے او دارنګ دا دواړه قولونه ﴿لَفِيْ جَحِيْمٍ﴾ کښ هم دی ﴿بِغَآئِبِيْنَ﴾ مراد د دے دا دے چه د جهنم نه د یولمحے د پاره هم نشی بهرکیدلے اونه وربانده مرګ او راحت راتلے شی۔

[۱۷، ۱۸] په دے ایاتونوکښ عظمت د ورځ د جزاء ذکرکوی د پاره د تاکید د تخویف اخروی۔

[۱۹] دا ذکر د بعضِ عظمتِ شان د هغه ورځ دے ﴿يَوْمَ لَا تَمْلِكُ﴾ پدے جمله کښ نفی د مِلك اوتصرف ده د غیر الله نه اوپه دویمه جمله کښ اثبات د هغے دے خاص الله تعالی لره اودا پوره توحید دے ﴿وَالْاَمْرُ﴾ امرعام دے د ملك (بادشاهئ) نه ﴿يَوْمَئِذٍ﴾ اوس په دنیاکښ هم امر(اختیار) صرف د الله تعالی دے په دلیل د سورة اعراف(۵۴)اوسورة قصص(۶۸)سره لیکن تخصیص د اخرت ئیے پدے وجے سره اوکړو چه دُنیاکښ بعضِ خلق د شرکت دعوے کوی خو اخرت کښ دا نشی کولے۔

سُوْرَةُ الْمُطَفِّفِيْنَ (۸۳) مَكِّيَّةٌ (۸۶) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۳۶ رُكُوْعَاتُهَا ۱

وَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِيْنَ ۝١ الَّذِيْنَ اِذَا اكْتَالُوْا عَلَى النَّاسِ يَسْتَوْفُوْنَ ۝٢ وَاِذَا كَالُوْهُمْ اَوْ وَّزَنُوْهُمْ يُخْسِرُوْنَ ۝٣ اَلَا يَظُنُّ اُولٰٓئِكَ اَنَّهُمْ مَّبْعُوْثُوْنَ ۝٤ لِيَوْمٍ عَظِيْمٍ ۝٥ يَّوْمَ يَقُوْمُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝٦ كَلَّآ اِنَّ كِتٰبَ

تباهی ده دپاره دَ کمی کوؤنکو (۱) هغه کسان چه په پیمانه اخلی دَ خلقو نه نو پوره اخلی (۲) او کله چه پیمانه کوی هغوی له یا تول کوی هغوی له نو کمے کوی (۳) ایا نه کوی گمان دغه خلق چه دوی به دوباره ژوندی کړیشی (٤) لوئے ورځے ته (٥) هغه ورځ چه اوبه دریږی خلق رب العالمین ته (٦) هیڅرے داسے نه ده پکار یقیناً عملنامه

سورة التطفيف

اوبل نوم ئے سورة المطففین دے۔

غوره دا ده چه دا سورة په مینځ دَ مکے او مدینے کښ نازل شویدے شاید چه دَ دے وجے نه بعضِ قراء وائي چه دا مکی دے او بعضِ وائي چه دا مدنی دے۔

ربط: دَ دے سورة دَ مخکښ سورة سره په څو وجوهو سره دے اوله وجه دا ده چه په هغه سورة کښ زجروؤ په اغترار سره نوپه دے سورة کښ زجر دے په تطفیف سره چه نتیجه دَ اغترار ده، دویمه وجه دا ده چه په هغه سورة کښ یوم لاتملك اه، سره ئے شان دَ قیامت ذکرکړونو په دے سورة کښ په یوم یقوم الناس لرب العالمین، سره شان دَ قیامت بیانوی۔

دعویٰ دَ دے سورة: زجردے په تطفیف سره اوپه عدم خوف دَ ورځ دَ قیامت نه۔ اوترغیب دے اخرت ته په (۲٦) کښ۔ اودَ اسماؤ دَ اللّٰه تعالیٰ نه صرف رب العالمین ذکردے۔

خلاصه دَ سورة :اول زجر دے او تعریف دَ تطفیف دے په درے ایاتونو کښ۔ بیا تخویف اخروی دے په درے ایاتونو کښ۔ بیادَتخویف دَپاره لس احوال ئے دَ فجّارو ذکرکړیدی تر(۱۷) پورے بیا دَ بشارت دَپاره ئے لس احوال دَ ابرارو ذکرکړیدی تر (۲۸) پورے بیا زجردے مجرمانوته په پنځه طریقو سره تر(۳۳) پورے بیا بشارت دے مؤمنانوته په درے ایاتونو کښ اومطففین ئے مسمیٰ کړیدی په الفجار والمکذبین والکفار او معتدی او اثیم سره۔

تفسیر

[۱] تطفیف په اصل کښ نقصان کولوته وئیلے شی په لږځیزسره بیا تطفیف دوه قسمه دے یو تطفیف ظاهری چه معروف دے یعنی په تول او پیمانه کښ نقصان کول دَپاره دَ دهوکے ورکولواودا حرام دے او دَ دے امدن هم حرام دے اګرچه صاحب دَ هغے وائي چه دا خوتجارت دے۔ دویم تطفیف معنوی دے لکه چه ذکرکړے دی قرطبی چه تطفیف په کیل او وزن او اودس اومونځ کولواوخبروکولوکښ شته دے۔

[۳،۲] دا تفسیر دَ تطفیف دے په معنیٰ مشهورے سره۔

[٦،٥،٤] دابل زجردے سرهٔ دَتخویف اخروی نه﴿يَقُوْمُ النَّاسُ﴾ قیام دَټولوخلقودے لیکن په مینځ دَ

الْفُجَّارِ لَفِيْ سِجِّيْنٍ ۝٧ وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا سِجِّيْنٌ ۝٨ كِتٰبٌ مَّرْقُوْمٌ ۝٩ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ۝١٠ الَّذِيْنَ يُكَذِّبُوْنَ
بِيَوْمِ الدِّيْنِ ۝١١ وَمَا يُكَذِّبُ بِهٖٓ اِلَّا كُلُّ مُعْتَدٍ اَثِيْمٍ ۝١٢ اِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِ اٰيٰتُنَا قَالَ اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ۝١٣ كَلَّا
بَلْ ۜ رَانَ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ مَّا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ۝١٤ كَلَّآ اِنَّهُمْ عَنْ رَّبِّهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّمَحْجُوْبُوْنَ ۝١٥ ثُمَّ اِنَّهُمْ

دَ بدکارو خامخا په سجین کښ ده (۷) اوځه خیز پوهه درکړیده تاته چه څه دے سجین (۸) دفتر (رجسټر) دے لیکلے شوے (۹) تباهی ده پدغه ورځ تکذیب کوؤنکو لره (۱۰) هغه کسان چه تکذیب کوی دَ ورځ دَ جزاء (۱۱) او تکذیب نه کوی دَ دغه ورځ مګر هر د حد نه تیروتونکے ډیر ګنهګار (۱۲) کله چه اولوستلے شی په هغه باندے ایتونه زمونږ دے وائي داخو دروغ قصّے دی دَ زړو خلقو (۱۳) هیڅرے داسے نه ده بلکه زنګ راغلے په زړونو دَ دوی په سبب دَ هغه عملونو چه دوی کول (۱٤) یقیناً داسے ده چه دا خلق دَ خپل رب نه (دیدار دَ هغه نه) پدغه ورځ به په پردو کښ وی (منع به کړیشی) (۱۵) بیا یقیناً دوی

مؤمنانواو کافرانو کښ په انسانیا اوسختئی کښ فرق دے په حدیث صحیح کښ راغلی دی چه په مؤمن باندے داسے تیریږی لکه فرض مونځ دَ هغه چه په دنیا کښ ئے کوو۔

[۷] ﴿كِتٰبَ الْفُجَّارِ﴾ یعنی کتاب دَ اعمالودَ شیاطینواو کافرانواوفاسقانو په سجین کښ دے روستو دَ مرګ دَ هغوی نه دارنګ روح دَکافرانولیکلے کیږی په سجین کښ لکه په حدیث دَمسند احمدکښ راغلی دی﴿سِجِّيْنٍ﴾دَسجن نه ماخوذ دے یعنی هغه ځائے ډیرتنګ دے اودَ ټول عالم نه خکته دے اوهغے ته اسفل السافلین هم وئیلے کیږی نوهغه نوم دَ یودفتر دے چه په هغے کښ عملنامے دَفجاروپرتے وی اوپه یوقول دَ ابن عباس رضی اللّٰه عنهما سره په هغے کښ ارواح دَفجاروهم دی۔

[۹،۸] اول ایت کښ هیبت شان دَ سجین ته اشاره ده اومعلومه شوه چه دَ قرآن دَ نزول نه مخکښ نبی ﷺ او قوم دَ هغه سجین نه پیژندلو دویم ایت کښ تفسیر دَسجین دے۔

[۱۱،۱۰] دا هم داخل دے په تخویف کښ ﴿الَّذِيْنَ﴾ دا تفسیر دَ مکذبینو دے تفسیر دَ عام دے په خاص سره اشاره ده چه تکذیب دَ یوم الدین سبب دے دَ هرتکذیب۔

[۱۳،۱۲] دا صفات دی دَ مکذب په طریقه دَ حصر سره یعنی هرځوك چه موصوف وی په دے دریے صفتونو سره نو هغه به مکذب دَ یوم الدین وی ﴿مُعْتَدٍ﴾ معتد دے په افعالوکښ دَ حلال اوحرام فرق نه کوی ﴿اَثِيْمٍ﴾ اثیم دے په اقوالوکښ دروغ وائی او سب وشتم دَ حق پرستوکوی۔

[۱٤] دا هم زجردے ﴿رَانَ﴾ دَ رین نه دے ګناهونه دَ ګناهونو دَپاسه کول تردے چه غالب شی په زړه باندے دا په زړونو دَ کافرانو پورے خاص دے۔اوالغیم په زړونو دَابرارو باندے راتلے شی اوابن قیم وئیلی دی چه اول رین دے بیا چه زیات شی نو طبع ده بیا ورپسے اقفال دے او دا صفتونه دَ زړونو دَکافرانو دی۔

[۱۵] ﴿لَمَحْجُوْبُوْنَ﴾خاوندان دَحجاب به وی دا دلیل دے چه دَ اللّٰه تعالیٰ دیدن کیدے شی ځکه چه محجوب دَ اللّٰه تعالیٰ صفت نه دے بلکه دَکافرانوصفت دے اودارنګ دَ دے ایت دَ مفهوم نه امام مالك اوامام شافعی رحمهما اللّٰه دلیل نیولے دے چه مؤمنان به په قیامت کښ دَ اللّٰه تعالیٰ دیدن کوی ځکه چه

لَصَالُوا الْجَحِيْمِ ﴿۱۶﴾ ثُمَّ يُقَالُ هٰذَا الَّذِيْ كُنْتُمْ بِهٖ تُكَذِّبُوْنَ ﴿۱۷﴾ كَلَّآ اِنَّ كِتٰبَ الْاَبْرَارِ لَفِيْ عِلِّيِّيْنَ ﴿۱۸﴾
وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا عِلِّيُّوْنَ ﴿۱۹﴾ كِتٰبٌ مَّرْقُوْمٌ ﴿۲۰﴾ يَّشْهَدُهُ الْمُقَرَّبُوْنَ ﴿۲۱﴾ اِنَّ الْاَبْرَارَ لَفِيْ نَعِيْمٍ ﴿۲۲﴾ عَلَى الْاَرَآئِكِ
يَنْظُرُوْنَ ﴿۲۳﴾ تَعْرِفُ فِيْ وُجُوْهِهِمْ نَضْرَةَ النَّعِيْمِ ﴿۲۴﴾ يُسْقَوْنَ مِنْ رَّحِيْقٍ مَّخْتُوْمٍ ﴿۲۵﴾ خِتٰمُهٗ مِسْكٌ ۭ وَفِيْ ذٰلِكَ
فَلْيَتَنَافَسِ الْمُتَنَافِسُوْنَ ﴿۲۶﴾ وَمِزَاجُهٗ مِنْ تَسْنِيْمٍ ﴿۲۷﴾ عَيْنًا يَّشْرَبُ بِهَا الْمُقَرَّبُوْنَ ﴿۲۸﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ اَجْرَمُوْا

ضرور داخلیدونکی دی اور ته (۱۶) بیا به اُوئیلے شی دا هغه څیز دے چه تاسو دَ هغے تکذیب کوؤ (۱۷) یقیناً داسے ده چه بیشکه عملنامه دَ نیکانو خامخا په علیین کښ ده (۱۸) او څه څیز پوهه درکړیده تاته چه څه دے علیون (۱۹) دفتر دے لیکلے شوے (۲۰) حاضریږی هغے ته (اللّٰه تعالیٰ ته)نزدے خلق (۲۱) یقیناً نیکان خلق به خامخا په نعمتونو کښ وی (۲۲) په پالنګونو باندے به وی ګوری به (۲۳) پیژنے به ته په مخونو دَ هغوی کښ تازګی دَ نعمتونو (۲۴) څښکولے کیږی به دوی ته دَ شرابو خالصو مهروهلے شوؤ نه (۲۵) مهر دَ هغے به مشك وی او په دیکښ دے پس مینه اوکړی مینه کوؤنکی (۲۶) او ګډون دَ هغے به دَ تسنیم چینے نه وی (۲۷) چینه ده څښکی به په هغے سره (دَ هغے نه) نزدے خلق (اللّٰه تعالیٰ ته) (۲۸) یقیناً هغه کسان چه جرمونه ئے کړیدی

که مؤمنان هم محجوب وی نو دَ کافرانو دَ تخصیص دَپاره څه وجه نیشته۔

[۱۷،۱۶] دَحجاب نه علاوه دا نور عذاب دے یعنی اصحاب دَ حرمان او اصحاب نیران دواړه دی۔

[۱۸] دا بشارت دے په ذکردَ احوالودَ ابرارو سره ﴿عِلِّيِّيْنَ﴾ دَعلونه ماخوذ دے او دا دَ خاص مقام نوم دے په اکثر روایاتو کښ راغلے دے چه په اووم اسمان کښ دے او دَ عرش دَلاندے دے نو په ډیره علو باندے مشتمل دے دَ دے وجے دَ جمع په صیغے سره دَ دهٔ نوم کیخودلے شو۔

[۱۹، ۲۰، ۲۱] په دے کښ عظمتِ شان دَ علیین ذکرشوے دے۔

[۲۲، ۲۳] روستو دَ حال دَ کتاب الاعمال نه حال دَ اصحاب الکتاب ذ کرکوی ﴿يَنْظُرُوْنَ﴾ مراد دَ دے نه نظر الی وجه اللّٰه تعالیٰ دے یا عام مراد دے یعنی نعمتونه دَجنت اوحال دَ دشمنانواوپه عام کښ هم نظر الی اللّٰه داخل دے۔

[۲۴] یعنی نعمتونه دَ جنت به دومره زیات وی چه ورسره به هیڅ غم اوفکر اومرض نه وی نو خوشحالی اوتازګی به دَ دوی په مخونوښکاری۔

[۲۶، ۲۵] ﴿رَحِيْقٍ﴾ هغه شراب چه دَ خیری او دَ نشے اودَګډون نه پاك وی ﴿مَخْتُوْمٍ﴾ مهرلګولو کښ اشاره ده چه دَ دوی نه مخکښ ورسره هیچالاس نه دے لګولے اودارنګ مهرلګول په هغے باندے دپاره دَ اکرام دی۔ دا یوقسم دَ خمرو (شرابو) دے اوبل قسم هغه دی چه په نهرونوکښ جاری وی۔ ﴿خِتٰمُهٗ مِسْكٌ﴾ خِتَام په معنیٰ دَ اخردے یعنی دَ اخری ګوټ سره به دَ مشکوخوشبوئی وی یا په معنیٰ دَمهردے ﴿اَلْمُتَنَافِسُوْنَ﴾ یعنی دَ انسانانو په طبیعت کښ خوتنافس شته نودا تنافس دِ جنت طرف ته متوجه کړی او مراد دَ تنافس نه هغه اخلاص او اتباع دَ سنت ده په تمام ژوند کښ چه په هغے سره دَ جنت نعمتونه حاصلیږی اودَ دے پشان په سورة صافات(۶۱) کښ هم ذکر دی۔

كَانُوْا مِنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا يَضْحَكُوْنَ ﴿۲۹﴾ وَاِذَا مَرُّوْا بِهِمْ يَتَغَامَزُوْنَ ﴿۳۰﴾ وَاِذَا انْقَلَبُوْٓا اِلٰٓى اَهْلِهِمُ انْقَلَبُوْا
فَكِهِيْنَ ﴿۳۱﴾ وَاِذَا رَاَوْهُمْ قَالُوْٓا اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ لَضَآلُّوْنَ ﴿۳۲﴾ وَمَآ اُرْسِلُوْا عَلَيْهِمْ حٰفِظِيْنَ ﴿۳۳﴾ فَالْيَوْمَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا
مِنَ الْكُفَّارِ يَضْحَكُوْنَ ﴿۳۴﴾ عَلَى الْاَرَآئِكِ يَنْظُرُوْنَ ﴿۳۵﴾ هَلْ ثُوِّبَ الْكُفَّارُ مَا كَانُوْا يَفْعَلُوْنَ ﴿۳۶﴾ ع

ووُ دوی چه په مؤمنانو پورے ئیے خندا کوله (۲۹) او هر کله چه ورتیریدل به په هغوی باندے نو سترگے به ئیے وهلے (۳۰) او هر کله چه واپس به شول خپلو خلقو ته واپس کیدل به خوشحالی کوؤنکی (۳۱) او کله چه دوی به اولیدل هغوی وئیل به ئیے چه دوی هغه کسان دی چه خامخا گمراهان دی (۳۲) او نه دی لیږلے شوی دوی په هغوی باندے څوکیٔ کوؤنکی (۳۳) نو نن ورځ به مؤمنان په کافرانو پورے خندا کوی (۳٤) په پالنگونو باندے به وی گوری به (۳۵) ایا بدله ورکړے شوه کافرانو ته دَ هغه کارونو چه دوی کول (۳٦)

[۲۸،۲۷] ﴿اَلْمُقَرَّبُوْنَ﴾ یعنی مقربون بندگان به خالص دَ تسنیم نه اوبه څښکی او نورو ابرارو دَپاره به دَ هغے نه گډون وی او دارنگ دَ ابرارودَپاره به دَکافورگډون وی لکه په سورة دهر(۵) کښ تیرشوی دی او گډون دَ زنجبیل به وی لکه سورة دهر (۱۷) کښ۔

[۲۹] دا زجر دے مجرمانوته په ذکر دَ څلور اوصاف قبیحه دَ هغوی سره چه دغه اسباب دَ وَیل او دَ رین دَ زړونو دی۔

[۳۰] ﴿يَتَغَامَزُوْنَ﴾ سترگے وهی یوبل ته دَپاره دَ تحقیر دَ هغوی یا عیبونه وائي په هغوی باندے ۔

[۳۱] ﴿اَهْلِهِمُ﴾ مراد دَ دے نه دَدوی تابعداران اومقلدین دی ﴿فَكِهِيْنَ﴾ خوشحالی اولوئی کوی په هغه مسخرو چه دوی په مؤمنان پسے کړی دی یعنی تابعدارانو ته خپل نرتوب ذکرکوی چه مونږ مؤمنانو لره ذلیل کړل۔

[۳۳،۳۲] دوی به صحابه کراموته گمراه وئیل ځکه چه هغوی دَ دوی دَطریقے نه خلاف وو۔ اوداحال دَشیعه گانودے چه صحابه کراموته گمراه اومرتد او کافروائی ځکه چه دوی پخپله گمراه دی۔ ﴿وَمَآ اُرْسِلُوْا﴾دا قول دَ اللّٰه تعالیٰ دے په رد دَهغه چاچه صحابه کراموته گمراه وائي یعنی دا مجرمان خوپه مؤمنانواوصحابه کراموباندے څوکیداران اوذمه داران نه دی مقرر شوی چه دوی په هغوی باندے فتوے لګوی۔یا دا قول هم دَکافرانو دے په باره دَ مؤمنانو کښ یعنی هرکله چه مؤمنانودوی ته دعوت دَ توحید ورکوؤ اودَ شرك نه ئیے منع کول نو هغوی اوئیل چه تاسوخوپه مونږ باندے مقرر شوی نه یئ اوذمه داران نه یئ۔

سُوْرَةُ الْاِنْشِقَاقِ (۸۴) مَكِّيَّةٌ (۸۴) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۲۵ رُكُوْعَاتُهَا ۱

اِذَا السَّمَآءُ انْشَقَّتْ ۙ﴿۱﴾ وَاَذِنَتْ لِرَبِّهَا وَحُقَّتْ ۙ﴿۲﴾ وَاِذَا الْاَرْضُ مُدَّتْ ۙ﴿۳﴾ وَاَلْقَتْ مَا فِيْهَا وَتَخَلَّتْ ۙ﴿۴﴾ وَاَذِنَتْ
لِرَبِّهَا وَحُقَّتْ ۙ﴿۵﴾ يٰۤاَيُّهَا الْاِنْسَانُ اِنَّكَ كَادِحٌ اِلٰى رَبِّكَ كَدْحًا فَمُلٰقِيْهِ ۚ﴿۶﴾ فَاَمَّا مَنْ اُوْتِيَ كِتٰبَهٗ بِيَمِيْنِهٖ ۙ﴿۷﴾

هر کله چه اسمان اوشلیږی (۱) اوغوږ ئیې دے ایخے دے حکم دَرب خپل ته اولائق ده چه غوږ کیدی (۲) او هر کله چه زمکه راښکلے شی (۳) او اوغورځوی هغه چه په هغے کښ وی او خالی شی (٤) او غوږ ئیې ایخے دے حکم دَ رب خپل ته او لائق ده چه غوږ کیدی (٥) اے انسانه یقیناً ته مشقت کوؤنکے ئیې (په رسیدلو کښ) خپل رب ته مشقت کول نو مخامخ کیدونکے ئیې دَ هغه سره (٦) نو هغه څوك چه ورکړیشی عملنامه د هغه په خی لاس دَ هغه کښ (۷)

سورة الانشقاق

اوبل نوم ئیې سورة اِنْشَقَّتْ دے۔

ربط: دَ دے سورة دَ ماقبل سره په څو وجوهو سره دے اوله وجه دا ده چه مخکښ سورة کښ زجروؤپه تطفیف اوتکذیب باندے نوپه دے سورة کښ ترغیب ورکوی نیك محنت طرف ته۔ دویمه وجه دا ده چه په هغه سورة کښ ذکردَحال دَ عملنامو وؤ روستو دَ مرګ نه نو پدے سورة کښ دَ هغے حال ذکرکوی په ورځ دَ قیامت کښ۔

دعویٰ دَ سورة: ترغیب دے کدح صالح ته دَ پاره دَ حساب یسیر او اخستل دَ عملنامے په خی لاس کښ اوتحذیر دے دَ کدح سیئی (بدے) نه دَپاره دَ بچ کیدلو دَ حساب شدید نه او اخستل دَ عملنامے روستو دَ شانه ـ او اسماء حسنیٰ ئیې دَ اللّٰه تعالیٰ څلور ذکرکړیدی۔ رب، اللّٰه، اعلم، بصیر۔

خلاصه دَ سورة: اول ذکردے دَ بعضِ احوالودَ حشربیا دعویٰ دَ سورة ده تر(٦) پورے بیا بشارت ذکرکوی کدح صالح (نیك کار) والولره په درے حالاتوسره تر(۹) پورے اوتخویف دے کدح سیئی (بد کار، کسب) والولره په ذکردَ درے حالاتوسره اوپه ذکردَ درے علتونو دَ عذاب سره تر(۱٥) پورے بیا درے شواهد دی په بعث بعد الموت باندے تر(۱۹) پورے۔ بیا زجر او تخویف دے په څلورو امورو سره تر (۲٤) پورے او په اخرکښ بشارت دے۔

تفسیر

[۲،۱] دا حالات دَ وخت دَ فنا کیدلو دَ عالم دی اونړول اکثردَ بره طرف نه شروع کیږی دَ دے وجے نه دَ اسمان ذکرئیے مخکښ اوکړو ﴿وَحُقَّتْ﴾حق په معنیٰ دَ لائق اومناسب دے یا په معنیٰ دَ واجب اولازم سره دے او وجه دَ حق دا ده چه اللّٰه تعالیٰ دَ دے خالق اومالك دے اودَ خالق مالك اطاعت کول واجب دی او اسمان کښ هم اللّٰه تعالیٰ شعوردَ اطاعت کیخودلے دے۔

[٥،٤،۳] ﴿مُدَّتْ﴾راښکلے به شی په داسے طریقے چه کندے اوغرونه به ترینه لرے شی اوحدیث کښ رائی داسے به راښکلے شی لکه چه څرمن راښکلے کیږی(دَ څاروی نه) دا دَ دے دَپاره چه ټول خلق

فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَّسِيْرًا ۝٨ وَّيَنْقَلِبُ اِلٰٓى اَهْلِهٖ مَسْرُوْرًا ۝٩ وَاَمَّا مَنْ اُوْتِيَ كِتٰبَهٗ وَرَآءَ ظَهْرِهٖ ۝١٠ فَسَوْفَ
يَدْعُوْا ثُبُوْرًا ۝١١ وَّيَصْلٰى سَعِيْرًا ۝١٢ اِنَّهٗ كَانَ فِيْٓ اَهْلِهٖ مَسْرُوْرًا ۝١٣ اِنَّهٗ ظَنَّ اَنْ لَّنْ يَّحُوْرَ ۝١٤ بَلٰٓى ۚ اِنَّ رَبَّهٗ
كَانَ بِهٖ بَصِيْرًا ۝١٥ فَلَآ اُقْسِمُ بِالشَّفَقِ ۝١٦ وَالَّيْلِ وَمَا وَسَقَ ۝١٧ وَالْقَمَرِ اِذَا اتَّسَقَ ۝١٨ لَتَرْكَبُنَّ طَبَقًا عَنْ طَبَقٍ ۝١٩

نو زر دے چه حساب به ورسره اوکړیشی حساب اسان (۸) او اوبه ګرځی خپل اهل ته خوشحاله کړه شوے (۹) او هغه څوك چه ورکړیشی عملنامه دَ هغه روستو دَ شا دَ هغه نه (۱۰) نو زر ده چه غواړی به هلاکت خپل (۱۱) او داخل به شي اورتیز ته (۱۲) یقیناً دے وؤ په خپل کور کښ خوشحاله (۱۳) یقیناً ده ګمان کولو چه اوبه نه ګرځی اللّٰه تعالیٰ ته (۱٤) بلکه یقیناً رب دَ دهٗ دے دهٗ لره لیدونکے (۱۵) نو داسے نه ده قسم کوؤم په سُرخئ دَ ما ښام (۱٦) او په شپه باندے او هغه څه چه راجمع شی (۱۷) او په سپوګمئے باندے هر کله چه پوره شی (۱۸) خامخا ورځئے به تاسو یو حال ته روستو دَ بل حال نه (۱۹)

وربانديے دَ حساب دَپاره اودریږی ﴿مَافِيْهَا﴾ په دے کښ دننه مړی دی اودارنګ خزانے اومعدنیات۔

[٦] دا دعویٰ دَ سورة ده ﴿الْاِنْسَانُ﴾ نه مراد جنس انسان دے که نیك شخص دے اوکه ناکاره۔ ﴿كَادِحٌ﴾ کدح په لغت کښ عمل اوکسب کول دی په ښه مشقت سره عمل دَ خیروی اوکه دَ شروی۔

[۹،۸،۷] دا تفصیل دَ دواړه قسمونو دَ اصحابِ کدح دے نو په دے ایاتونو کښ بشارت دے ﴿حِسَابًا يَّسِيْرًا﴾ او حدیث صحیح کښ راغلی دی چه نبی ﷺ اوفرمائیل چاسره چه حساب اوکړے شو نو تباه شونوعائشه رضی اللّٰه عنها تپوس اوکړو چه اللّٰه تعالیٰ خوفرمائیلی دی چه اصحاب الیمین سره به هم حساب کیږی جواب اوشوچه مراد دَدے نه عرض دے یعنی اعمال به ورته پیش کړے شی نودے به اویریږی نواللّٰه تعالیٰ به اوفرمائی چه ماتاته داټول معاف کړی دی ﴿اِلٰٓى اَهْلِهٖ﴾ مراد ترینه اهل دَ جنت دی حورے غلمان اوهغه دنیوی اهل چه جنت ته داخل شویوی ﴿مَسْرُوْرًا﴾ دا په بدل دَ هغه مشقتونو اوغمونوکښ دے چه په دنیاکښ تیرکړیدی۔

[۱۳،۱۲،۱۱،۱۰] دا تخویف اخروی دے دویم قسم خلقوته اودا دلیل دے چه اول قسم ته به عملنامه دَمخے طرف نه ورکوی اودویم قسم ته به دَشا دَطرف نه په ګس لاس کښ ورکوی۔دارنګ په سورة الحاقه(۲۵)کښ ذکرشویدی اودَ شانه ورکولوکښ دَ دوی ډیرتذلیل اوتوهین دے﴿فِيْٓ اَهْلِهٖ مَسْرُوْرًا﴾ یعنی په دنیاکښ په دوی باندے غمونه اوتکالیف راغلی نه وؤ، بندګی، دعوت، جهاد وغیره کښ ځان نه دے سترے کړے نودَهغے دَوجے نه په اخرت کښ به په تباهئی اوتکلیفونو کښ اخته شی۔

[۱۵،۱٤] دا سبب دَ عذاب ذکرکوی ﴿لَنْ يَّحُوْرَ﴾ حور واپس کیدلوته وئیلے شی نو مراد ترینه رجوع الی اللّٰه ده یا مراد ترینه بعث بعد الموت دے اومقصد ئے یو دے یعنی دا شخص دَ قیامت نه منکروؤ او په دے کښ صرف دَ ظن تابع وؤ۔

[۱۸،۱۷،۱٦] دا قسم دے په څلورو ځیزونو باندے او دا حالات مختلفه دی په ترتیب سره اول شفق وی چه ابتدا دَ شپے ده بیا پوره شپه شی نو په هغے کښ عام حیوانات خپلو ځایونوته راجمع کیږی او په شپه کښ سپوږمئے ده چه هغه هم تدریجاً کمال ته رسیږی ﴿بِالشَّفَقِ﴾ شفق په لغت اوشرع دواړوکښ سوروالی

فَمَا لَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿٢٠﴾ وَإِذَا قُرِئَ عَلَيْهِمُ الْقُرْآنُ لَا يَسْجُدُونَ ﴿٢١﴾ بَلِ الَّذِينَ كَفَرُوا يُكَذِّبُونَ ﴿٢٢﴾ وَاللَّهُ
أَعْلَمُ بِمَا يُوعُونَ ﴿٢٣﴾ فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٢٤﴾ إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ ﴿٢٥﴾

نو څه وجه ده دوی لره چه نه لری ایمان (۲۰) او کله چه اولوستلے شی په دوی باندے قرآن نو نه کوی سجده (۲۱) بلکه هغه کسان چه کافران دی دوی خو تکذیب کوی (۲۲) او اللّٰه تعالیٰ پوهه دے په هغه څه چه دوی ئیے په زړونو کښ پټوی (۲۳) نو زیرے ورکړه دوی ته په عذاب درد ناك (۲٤) مګر هغه کسان چه ایمان ئیے راوړے دے او عملونه ئیے کړیدی نیك دوی لره ثوابونه دی بے انتها (۲۵)

دَ مابنام ته وئیلے کیږی چه دَ مابنام اخری وخت دے اودَ هغے غائب کیدل دَ ماسخوتن ابتدا ده اوپه نیز دَ بعضِ اهل علم هغهٔ سپین والی ته وئیلے شی چه روستو دَ سوروالی نه وی یعنی شفق دَ اضدادونه دے۔ ﴿وَمَاوَسَقَ﴾ وسق جمع کولوته وئیلے شی یعنی په شپه کښ جمع کیږی هغه څیزونه چه دَ ورځے خواره شویوی ﴿اِتَّسَقَ﴾ داهم دَ وسق نه دے یعنی دَ څوارلسمے شپه باندے چه سپوګمئے جمع شی او پکه شی اول وړه وی نوبیاپه دمه دمه پوره شی۔

[۱۹] دا جواب قسم دے او دا خطاب دے نبی ﷺ ته یا ټول امت دَ هغه ته یا ټولو خلقوته ۔بیا په دیکښ چه خطاب شی نبی ﷺ ته نویومعنیٰ دا ده چه په تا باندے اے نبی حالات مختلف دَ سختو اودَ تکلیفونو به راځی پشان دَ انبیاؤ سابقینو۔ دویمه معنیٰ دا ده چه مختلف حالات دَ ترقیٔ اودَ فتوحو به راځی۔ اوچه خطاب شی امت ته نومعنیٰ دا ده چه په تاسوکښ به مشابه حالات دَیهودواونصاریٰ راځی لکه چه په حدیث صحیح کښ راغلی دی چه لتتبعنّ سنن من قبلکم (الحدیث) اوچه خطاب شی ټولوخلقوته نومعنیٰ داده چه ورځئے به تاسوحال دَ څوانئے ته بیا بوډاوالی، بیامرګ بیا برزخ بیا دوباره ژوند بیا حساب میزان وقوف صراط بیا جنت یا جهنم ته۔ داروستو معنیٰ عام مفسرینوغوره کړے اوپه دے کښ مقصد اثبات دَ قیامت دے۔

[۲۰،۲۱] دا زجرونه دی په ذکر دَ څلورو حالاتو دَ منکرینو سره په اول ایت کښ کفر اوشرك اعتقادی ته اشاره ده اوپه دویم کښ کفر اوشرك عملی ته اشاره ده ﴿لَايَسْجُدُوْنَ﴾ یعنی سجده اللّٰه تعالیٰ ته نه خاص کوی بلکه غیراللّٰه ورسره شریك جوړ وی یا مراد دَ سجودنه مونځ کول دی په ذکر دَ جزء اومراد ترینه کل۔ اکثر اهلِ علم په دے کښ دَسجدے قائل دی ځکه چه اللّٰه تعالیٰ سجده نه کوؤنکو ته زورنه ورکړیده نومؤمن له پکار دی چه په داسے ځائے کښ سجده اوکړی۔

[۲۲،۲۳] دا هم دَ منکرینو حالات دی۔

[۲٤،۲۵] په اول ایت کښ تخویف دے متفرع دے په فا سره په مخکښ عملونو باندے او بشارت ئیے دیته استهزاءً وئیلے دے۔ اودویم ایت کښ بشارت دے۔

سُوْرَةُ الْبُرُوْج (۸۵) مَكِّيَّةٌ (۲۶) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۲۲ رُكُوْعَاتُهَا ۱

وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الْبُرُوْجِ ۝۱ وَالْيَوْمِ الْمَوْعُوْدِ ۝۲ وَشَاهِدٍ وَّمَشْهُوْدٍ ۝۳ قُتِلَ اَصْحٰبُ الْاُخْدُوْدِ ۝۴ النَّارِ ذَاتِ الْوَقُوْدِ ۝۵

قسم دے په اسمان غټو ستورو والا (۱) او په هغه ورځ چه وعده ئے کړے شویده (۲) او تماشګیر او هغه څوك چه تماشه ئے کیدے شی (۳) تباه کړے شول کنستونکی دَ کندو (٤) اور ډیر خشاك والا (۵)

سورة البروج

ربط: دَ دے سورة دَ ماقبل سره په څوطریقودے اوله طریقه دا ده چه مخکښ سورة کښ تخویف اخروی وؤمنکرینوته نوپه دے سورة کښ تخویف دنیوی دے په واقعاتودَاصحاب الاخدود اوفرعون او ثمود سره۔ دویمه طریقه دا ده چه مخکښ کدح (مشقت) صالحه ته ترغیب وؤنوپه دے سورت کښ دَکدحه سیئه عاقبت ذکرکوی په عذاب دنیوی او اخروی دواړو سره۔

دعویٰ دَسورة : تخویف دنیوی دے منکرینوته په (۱۲،٤) کښ سرهٗ دَ رد دَ شرك فی التصرف نه په (۱٦،۹) کښ اوشرك فی العلم په (۹) کښ او اسماء حسنیٰ دَ اللّٰه تعالیٰ ئے لس ذکرکړی دی۔

خلاصه دَ سورة دا ده : اول شواهد دی په دعویٰ دَ سورة باندے تر(۳) پورے بیا مثال دَ دعوے دَ سورة دے په واقعه دَ اصحاب اخدود سره او دَ هغوی پنځه احوال قبیحه ذکردی تر(۸) پورے بیا تصرف او شهادت (علم) دَ اللّٰه تعالیٰ ئے ذکرکړے دے دلیل دَپاره دَ دعوے دَ سورة په (۹) کښ بیا تخویف اخروی او بشارت دے په (۱۱،۱۰) کښ بیا تاکید دَ دعوے دَ سورة او دَ هغے اثبات دے په ذکر دَاته صفتونو دَ اللّٰه تعالیٰ سره تر(۱٦) پورے بیا دوه مثالونه دی دَپاره دَ دعوے دَ سورة په (۱۸،۱۷) کښ بیا سبب دَ عذاب زجراً ذکردے په (۱۹) کښ بیا صفت دَ احاطے دَ اللّٰه تعالیٰ دے اوتاکید دَ دعوے دَ سورة په (۲۰) او اختتام ئے په ترغیب الی القرآن کړیدے دَپاره دَ بچ کیدلو دَ عذاب نه په (۲۲،۲۱) کښ۔

تفسیر

[۱] دا قسم دے ﴿الْبُرُوْجِ﴾ برج په اصل کښ بنکاره کیدلوته وئیلے کیږی نو ستورو اوځایونو دَ بنکاره کیدو دَ ستوروته دا لفظ شامل دے۔

[۲] دا هم قسم دے او مراد دَ دے نه ورځ دَ قیامت ده په اتفاق دَ مفسرینو سره ځکه چه قرآن کښ دَ هغے وعده کړے شوے ده دَ مخلوق سره او هغے ته المیعاد هم وئیلے کیږی۔

[۳] په دے کښ ډیر اقوال دی اول داچه شاهد ورځ دَ جمعے ده اومشهود ورځ دَ عرفے ده او دا حدیث کښ راغلی دی او دَ هغه حدیث په رفع کښ ضعف دے اوموقوف صحیح دے ۔ دویم اعضآء دَ انسان شاهد دی اوانسان مشهود دے۔ دریم انسان شاهد دے او ورځ دَ قیامت مشهود ده لکه په سورة هود (۱۰۳) کښ دی۔ څلورم هر نبی شاهد دے په امت خپل باندے اوامت دَ هغهٗ مشهود دے۔ پنځم لوستونکے دَ قرآن اوملائك شاهد دی اولوستل دَ قرآن مشهود دی لکه چه فرمائیلی دی (ان قرآن الفجرکان مشهوداً) شپږم هرکافر چه په دنیا کښ مؤحدینوته تماشے کوی او هغوی له عقوبتونه ورکوی نو هغه شاهد دے او

إِذْ هُمْ عَلَيْهَا قُعُودٌ ۝٦ وَهُمْ عَلَىٰ مَا يَفْعَلُونَ بِالْمُؤْمِنِينَ شُهُودٌ ۝٧ وَمَا نَقَمُوا مِنْهُمْ إِلَّا أَنْ يُؤْمِنُوا بِاللَّهِ الْعَزِيزِ

کله چه دوی دَ هغے په خوا کښ ناست وؤ (٦) او دوی په هغے کارونو چه کول ئے دَ مؤمنانو سره تماشه کوؤنکی وؤ (٧) او بد نه ګڼرلو دوی دَ هغوی نه مګر دا چه هغوی ایمان راوړے وؤ په اللّٰه تعالیٰ چه زور اُور

مؤمن مشهود دے لکه چه اصحاب اخدود ته ئیے مشهود وئیلی دی۔ اووم په عکس دَ دے یعنی په ورځ دَقیامت هرمؤمن شاهد دے اوهرکافر مشهود دے، غوره دا ده چه دا دواړه الفاظ مطلق دی نو دے ټولوته شامل دی تخصیص ئیے صرف په طریقه دَ مثال سره دے۔

فائده: دَ دے قسمونو په جواب کښ اختلاف دے بعضو وئیلی دی چه جواب پټ دے یعنی إِنَّ هٰؤُلَاءِ مُعَذَّبُونَ او دَ بعضوقول دا دے چه ان بطش ربّك لَشَدِيْد دَ دے جواب دے، دَ فراء قول دا دے چه قُتِلَ کښ لَقَدْ پټ دے او دا ئیے جواب دے اومناسبت دَ قسم دَ جواب قسم سره دا دے چه په اسمان اوپه نمر، سپوګمئے اوستورو کښ نمونے دَ عذاب شته چه په مخکښ بعضِ قومونو باندے دَدے نه عذابونه راغلی دی او یومِ موعود خودَ منکرینو دَ عذاب دَپاره ده اوهرشاهد (لیدونکے) دَ اللّٰه تعالیٰ عذابونه لیدلی دی اوپه هر مشهود باندے دَ عذابونو نخے شته دے دا ټول دلالت کوی چه دے منکرینوته به اللّٰه تعالیٰ په دنیا کښ عذاب ورکوی۔

[٦،٥،٤] دا مثال دَ تخویف دنیوی دے چه دعویٰ دَ سورة ده اوعذاب دَ اصحاب اخدود اودَ هغوی پنځه حالات ذکرکوی ﴿قُتِلَ﴾ دَ ابن عباس رضی اللّٰه عنهما په نیز په قرآن کښ قتل (په محل دَ دُعا کښ) په معنیٰ دَ لعنت دے ﴿الْوَقُوْدِ﴾ په زوردَ واو سره په معنیٰ دَ خشاك دَ اوریلولو دے یعنی دالوئے اور وؤ چه دَ ډیرخشاك نه ډك وؤ ﴿وَهُمْ عَلٰى مَا يَفْعَلُوْنَ بِالْمُؤْمِنِيْنَ شُهُوْدٌ﴾ په دے کښ اشاره ده دَ دوی ډیرجبراوتشدد اوبے رحمئی ته چه سرهٔ دَ دے چه دوی ناست وؤ یعنی دَ ځائے نه نهٔ خوځیدل او دَ مؤمنانو دَ سوځیدلو تماشه ئیے کوله اوپه زړونو کښ هیڅ ترس اورحم نه پیدا کیدلو او دَ دے واقعے په باره کښ ابن کثیر روایات دَ مسند احمد نه او صحیح مسلم اوجامع ترمذی او دَ محمد بن اسحاق نه نقل کړیدی او دَ هغے واقعے نه معلومیږی چه دا په نجران کښ په زمانه دَفترة (په مینځ دَعیسیٰ علیه السلام اودَ بعثت دَ نبی ﷺ) کښ تیره شوے ده هرکله چه اکثر یهودو اونصاریٰ دین دَ توحید پریخودلے وؤ اوپه شرك، سحر اوکهانت کښ اخته شوی وؤاوبعضِ راهبان مؤحدین دَ ویرے دَ وجے نه په ګوټونوکښ ناست وؤ نو دَ یوراهب مؤحد په وجے سره دَ عبداللّٰه بن تامرنومے هلك دَ توحید تربیت اوکړے شواوهغه له اللّٰه تعالیٰ بعضِ کرامات هم ورکړی وؤاوهغه اودَ هغه ملګرودَ توحید دعوت شروع کړونو دَ هغے وخت بادشاه اوډیرخلقودَ هغوی مخالفت شروع کړو او راهب ئیے په اره باندے پریکړو او عبداللّٰه بن تامرئیے دَ هغه په غشی سره شهید کړو اونور مؤحدین ئیے دَ اور کندے ته اوغورځول او په هغے کښ ئیے شهیدان کړل نو دَ اللّٰه تعالیٰ غضب په هغه قوم باندے راغے اولعنت پرے اوکړے شو۔ اوقرطبی وئیلی دی چه په دے واقعه کښ دَ دے امت دعوت کوؤنکو لره عبرت دے چه په بیان دَ حق کښ دِکلك شی او تکلیفونه اومصیبتونه دِ پشان دَ هغه نوجوان تیرکړی تردے پورے چه خپل سرهم په لار دَ اللّٰه تعالیٰ کښ قربان کړی (اَللّٰهُمَّ وَفِّقْنَا لِهٰذَا الْعَمَل)۔

الْحَمِيْدِ ۝٨ الَّذِيْ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ ۝٩ اِنَّ الَّذِيْنَ فَتَنُوا الْمُؤْمِنِيْنَ
وَالْمُؤْمِنٰتِ ثُمَّ لَمْ يَتُوْبُوْا فَلَهُمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ وَلَهُمْ عَذَابُ الْحَرِيْقِ ۝١٠ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَهُمْ
جَنّٰتٌ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ؕ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْكَبِيْرُ ؕ ۝١١ اِنَّ بَطْشَ رَبِّكَ لَشَدِيْدٌ ؕ ۝١٢ اِنَّهٗ هُوَ يُبْدِئُ وَيُعِيْدُ ۝١٣

ستائیلے شویدے (۸) داسے ذات دے چه هغه لره بادشاهی ده دَ اسمانونواو دَ زمکے ده او اللّٰه تعالیٰ په هر څیز باندے حاضر ناظر دے (۹) یقیناً هغه کسان چه تکلیفونه ئے ورکړیدی مؤمنانوسړو او مؤمناتو زنانو ته بیا ئے نه ده ویستلے توبه نو دوی لره عذاب دَ جهنم دے او دوی لره عذاب دے دَ اور سوځوؤنکی(۱۰) یقیناً هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے او عملونه ئے کړیدی نیك دوی لره جنتونه دی بهیږی به لاندے دَ هغے نه نهرونه (ولے) دا کامیابی لویه ده (۱۱) یقیناً نیول دَ رب ستا خامخا ډیر سخت دی (۱۲) یقیناً هغه اول پیدائش کوی او دوباره هم (۱۳)

[۹،۸] داهم حال دَ اصحاب الاخدود دے او سبب دَ دشمنئ دَ دوی دے دَ مؤمنانو سره اوبه دے حصرکښ زیاته تقبیح دَ دغه خلقو ده چه بل هیڅ سبب دَ دښمنئ نه وؤ ماسیوا دَ ایمان نه، اومدح دَ مؤمنانوده چه په هغوی کښ داسے یو صفت نه وؤ چه عیب وؤ په نیز دَکافرانو ماسیوا دَ ایمان نه او ایمان خو عیب نه دے ﴿اَنْ يُّؤْمِنُوْا﴾ مراد ترینه ایمان شرعی دے چه څالی دے دَ کلمون دَ شرك اودَانکارنه ﴿عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ﴾ دَنبی په صفت کښ هم شهید راغلے دے بلکه دَ ټولومؤمنانوصفت په شهداء سره راغلے دے لیکن دَ هغے سره کل شیءٍ نه دے راغلے او دا لوئے فرق دی په صفت دَ اللّٰه تعالیٰ او په صفت دَ مخلوق کښ صِرف اشتراك لفظی دے او هغه هم په تقیید سره وهم دَ شرکت لره زائل کوی۔

[۱۰] دا هم تاکید دَ دعوے دَ سورة دے او تخویف دے هغه چاڅه چه دَ اصحاب اخدود په شان دَ مؤحدینو سره معامله کوی او ایت عام دے ﴿ثُمَّ لَمْ يَتُوْبُوْا﴾ اشاره ده چه په توبے دَ کافر سره ټول ګناهونه بلکه حقوق دَ بندګانو هم معاف کیږی اولفظ دَ ثُمَّ کښ اشاره ده چه توبه روستو په تاخیر سره اوکړی په دے شرط چه دَ غرغرے نه وړاندے وی نو هغه توبه قبلیږی ﴿فَلَهُمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ﴾ دَ کفر دَ وجے ﴿وَلَهُمْ عَذَابُ الْحَرِيْقِ﴾ دَ مؤمنانو دَ سوځولو دَ وجے نه ځکه چه جزاء دَ جنس دَ عمل نه وی۔ او دویمه جمله تفسیر دَ اولے دے یعنی عذاب دَ جهنم به په حریق سره وی یا اول عذاب په نورو قسمونو سره دے او دویم عذاب په اورسره دے۔

[۱۱] دا بشارت دے مؤمنانوته هغه چه په تیرشوی ایت کښ دَ هغوی مفتونینت (مظلومیت) ذکرکړے شو۔

[۱۲] دا تاکید دَ دعوے دَ سورة دے یعنی اللّٰه تعالیٰ به دوی لره سخت عذاب ورکوی ځکه چه دَ هغه نیول سخت دی۔

[۱۳،۱۴،۱۵،۱۶] په دے ایاتونو کښ ذکردَ صفاتو دَ اللّٰه تعالیٰ دے دَپاره دَتاکید دَ دعوے دَ سورة او دلیل دے دَپاره دَ مخکښ ایت چه بطش دَ رب ډیر سخت دے ځکه چه موصوف دے په داسے صفتونو سره۔﴿الْوَدُوْدُ﴾ په معنیٰ دَ فاعل دے یعنی محبت کوؤنکے دے دَ دوستانو خپلو سره یعنی بخنه هم کوی او محبت هم کوی ۔ دارنګ په معنیٰ دَ رحم کوؤنکی هم راځی او په معنیٰ دَ مفعول هم کیدے شی یعنی

وَهُوَ الْغَفُوْرُ الْوَدُوْدُ ﴿۱۴﴾ ذُو الْعَرْشِ الْمَجِيْدُ ﴿۱۵﴾ فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيْدُ ﴿۱۶﴾ هَلْ اَتٰىكَ حَدِيْثُ الْجُنُوْدِ ﴿۱۷﴾ فِرْعَوْنَ وَثَمُوْدَ ﴿۱۸﴾
بَلِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فِيْ تَكْذِيْبٍ ﴿۱۹﴾ وَّاللّٰهُ مِنْ وَّرَآئِهِمْ مُّحِيْطٌ ﴿۲۰﴾ بَلْ هُوَ قُرْاٰنٌ مَّجِيْدٌ ﴿۲۱﴾ فِيْ لَوْحٍ مَّحْفُوْظٍ ﴿۲۲﴾ ع

او هغه دے بخنه کوؤنکے مینه کوؤنکے (۱٤) خاوند د عرش دے لوئے شان والا دے (۱۵) کؤونکے دے دَ هغه څه چه اوغواړی (۱٦) یقیناً راغلے دے تاته خبر دَ لښکرو (۱۷) دَ فرعون او ثمود (۱۸) بلکه هغه کسان چه کفر ئے کړیدے په تکذیب کښ مشغوله دی (۱۹) او اللّٰه تعالیٰ دَ دوی دَ هر طرف نه راګیروؤنکے دے (۲۰) بلکه دا قرآن دے لوئے شان والا (۲۱) په تختو ساتلے شوؤ کښ دے (۲۲)

محبوب دے مؤمنانوته ﴿اَلْمَجِيْدُ﴾ په پیښ سره دے او صفت دَ اللّٰه تعالیٰ دے او په بل قراءت کښ په زیر سره دے نوصفت دَ عرش دے او معنیٰ دَ مجد په کرم اوفضل کولوکښ انتهاکول دی ﴿فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيْدُ﴾ صیغه دَ مبالغے دَ وجے دَ کثرت دَ کارونونه ده یا مبالغه اشاره ده چه اللّٰه تعالیٰ دَ ډاره هیڅوك مانع نیشته او دا دلیل دے چه اللّٰه تعالیٰ باندے هیڅ څیز واجب نه دے اوټول افعال دَ بندګانو مخلوق دَ اللّٰه تعالیٰ دی۔

[۱۸،۱۷] دا هم تاکید دے دَ دعوے دَ سورة په ذکرکولو دَنورو نمونو دَ عذاب دنیوی ۔ مراد دا دے چه تاته دَ هغوی دَهلاکت خبرونه را رسیدلی دی نو دغه شان دا موجوده چه تکذیب کوی نو دَ هغوی په شان به هلاك شی اوپه تخصیص دَ فرعون اوثمودکښ اشاره ده چه دَ فرعون پشان بادشاهی وی نو هغه بادشاهی ئیے نشی بچ کولے او چه دَ ثمودیانو پشان مالونه اوکارخانے اوهنرونه وی نو هغه ئیے هم نشی بچ کولے۔

[۲۰،۱۹] دا زجردے اوسبب ډاره دَ عذاب دے ﴿فِيْ تَكْذِيْبٍ﴾ دوی په ډیر لوئے تکذیب کښ ورنوتلی دی چه بهرترینه نشی راوتلے ﴿مِنْ وَّرَآئِهِمْ﴾ اشاره ده هرجانب ته ځکه چه دَ لفظ وَرَآءٍ کله په ټولو اطرافو باندے اطلاق کیدے شی ﴿مُحِيْطٌ﴾ یعنی قدرت اوعلم ئیے راګیروؤنکے دے او دا معنیٰ دَ سلف صالحینونه نقل ده او په عرف کښ احاطه هم دے ته وئیلے شی چه تسلط او قدرت ئیے چاپیره وی۔ نو دوی دَ اللّٰه تعالیٰ دَ احاطے نه په هیڅ طریقه وتلے نشی۔

[۲۲،۲۱] دا ذکرَ دَ صدق دَ قرآن کریم دے دَ ډاره دَ رد کولوپه تکذیب کوؤنکوباندے ﴿فِيْ لَوْحٍ مَّحْفُوْظٍ﴾ حقیقت دَ هغه لوح اللّٰه تعالیٰ ته معلوم دے ځکه دَ هغے دَ کیفیت دَ علم ډاره صحیح صریح نص نیشته۔ مَحْفُوْظٍ: دَ تغیر او تبدیل او دَ فسق دَ شیطانانونه محفوظ دے۔

سُوْرَةُ الطَّارِقِ (۸۶) مَكِّيَّةٌ (۳۱) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۱۷ رُكُوْعَاتُهَا ۱

وَالسَّمَآءِ وَالطَّارِقِ ۝۱ وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا الطَّارِقُ ۝۲ النَّجْمُ الثَّاقِبُ ۝۳ اِنْ كُلُّ نَفْسٍ لَّمَّا عَلَيْهَا حَافِظٌ ۝۴ فَلْيَنْظُرِ

قسم دے په اسمان او په راتلونکی دَ شپے باندے (۱) او څه څیز پوهه کړے ته چه څه دے دَ شپے راتلونکے (۲) ستورے دے ځلیدونکے (۳) نیشته هیڅ یو نفس مګر شته په هغه باندے ساتنه کوؤنکے (٤) نو اودِ ګورې

سورة الطارق

ربط: دَ دے سورة دَماقبل سره یو دا دے چه په مخکښ سورة کښ ذکر دَ نزول دَ عذاب وؤ مخکنو قومونو باندے نو په دے سورة کښ ذکر دَ عذاب دے په موجوده منکرینوباندے سرهٔ دَ مهلت ورکولو نه۔ دویم ربط دا دے چه په مخکښ سورة کښ تخویف وؤ مکذبینوته نو په دے سورة کښ دَ دغسے انسان تحقیر او ذلت ذکر کوی۔

دعویٰ دَ دے سورة: تخویف دے په نزول دَ عذاب سره په موجوده منکرینو باندے په (۱۷) کښ او دَ اللّٰه تعالیٰ درے صفات ئیے ذکر کړیدی حافظ، قادر، خالق۔

خلاصه دَدے سورة : اول ذکردَ دوه شواهدو دے په دے خبره چه اللّٰه تعالیٰ حافظ دَ هرنفس دے حفاظت دَ بعضو کوی په عفو سره اوحفاظت دَ بعضوکوی په مهلت ورکولوسره تر(٤) پورے بیا دلیل نفسی ذکرکړے دے دَپاره دَ اثبات دَ قیامت تر(۸) پورے بیا تخویف دے په ذکر دَ حال دَ قیامت چه سرائر به ښکاره شی سرهٔ دَ ذکر دَ عجز دَ انسان نه په (۱۰،۹) کښ بیا ذکردَافاقی دلیلونو دے تر(۱٤) پورے بیا ذکردَمکائدودَ انسان دے چه سبب دَ عذاب دے او په اخر کښ دعویٰ دَ سورة ذکرکوی چه استحقاق دَ عذاب دے سرهٔ دَ مهلت نه۔

تفسیر

[۳،۲،۱] په دے کښ دوه قَسمونه دی په اسمان باندے اوپه طارق باندے اوطارق په جواب قسم کښ ډیرمفید دے لکه چه روستو به ذکرشی دَ دے وجے نه اول ئیے مبهم ذکرکړو بیائیے دَ هغے تفصیل اوکړو۔ او قتاده او مجاهد وئیلی دی چه مراد دَ الطَّارِقُ نه جنس ستوری دی چه دَ شپے راخیژی اودَورځے غائب وی تخصیص په یو ستوری پورے صحیح نه دے۔

[٤] دا جواب قسم دے اوحافظ نه مراد اللّٰه تعالیٰ دے لکه په سورة یوسف(٦٤) اوسورة انبیاء (٤٢) کښ دی یعنی اللّٰه تعالیٰ دَ هرچا حفاظت کوؤنکے دے او هغه چه دَ چا حفاظت نه کوی نوبل څوك ئیے نشی کولے لکه سورة مؤمنون(۸۸) کښ یا مراد دَ حافظ نه جنس دَ ملائکو دے یعنی په هر یونفس باندے ډیرملائك مقرر دی چه دَ هغه حفاظت کوی لکه په سورة رعد (۱۱) کښ دی (مناسبت) په مینځ دَ قسم اوجواب قسم کښ دا دے چه اللّٰه تعالیٰ اسمان محفوظ کړیدے (سَقْفًا مَّحْفُوْظًا) اوپه الطارق (ستورو) سره دَ اسمان حفاظت کوی دَ شیطانانونه نو دارنګ دَ هر انسان حفاظت کوی پخپله او په واسطه دَ ملائکو

الْاِنْسَانُ مِمَّ خُلِقَ ۝۵ خُلِقَ مِنْ مَّآءٍ دَافِقٍ ۝۶ يَّخْرُجُ مِنْ بَيْنِ الصُّلْبِ وَالتَّرَآئِبِ ۝۷ اِنَّهٗ عَلٰى رَجْعِهٖ لَقَادِرٌ ۝۸ يَوْمَ
تُبْلَى السَّرَآئِرُ ۝۹ فَمَا لَهٗ مِنْ قُوَّةٍ وَّلَا نَاصِرٍ ۝۱۰ وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الرَّجْعِ ۝۱۱ وَالْاَرْضِ ذَاتِ الصَّدْعِ ۝۱۲ اِنَّهٗ لَقَوْلٌ
فَصْلٌ ۝۱۳ وَّمَا هُوَ بِالْهَزْلِ ۝۱۴ اِنَّهُمْ يَكِيْدُوْنَ كَيْدًا ۝۱۵ وَّاَكِيْدُ كَيْدًا ۝۱۶ فَمَهِّلِ الْكٰفِرِيْنَ اَمْهِلْهُمْ رُوَيْدًا ۝۱۷ ع

انسان چه دَ څه نه پیدا کړے شویدے (۵) پیدا کړے شویدے دَ اوبو ټوپ وهونکو نه (٦) چه را اوځی دَ مینځ دَ ملا او دَ سینے نه (۷) یقیناً اللّٰه تعالیٰ په واپس کولو دَ هغه باندے ځامخا قادر دے (۸) په هغه ورځ بنکاره به کړے شی را زونه (۹) نو نه به وی هغه لره هیڅ طاقت او نه مددګار (۱۰) او قسم دے په اسمان را ګرځیدونکی (۱۱) او قسم دے په زمکه چه چودونکے ده (۱۲) چه یقیناً ځامخا دا خبره پخه ده (۱۳) او نه ده دا ټوقے (۱٤) یقیناً دوی چلونه کوی چلونه (۱۵) او څه هم تدبیر کوؤم تدبیر (۱٦) نو مهلت ورکړه کافرانو لره مهلت ورکړه دوی لره لږه موده (۱۷)

سره نومعلومه شوه چه دَ انسان پیدائش مهمل نه دے بلکه دے مکلف دے په احکامو دَ اللّٰه تعالیٰ سره۔

[۷،٦،۵] دا دَ اثبات دَ معاد دپاره دلیل ذکر کوی دَ مبداء دَ انسان نه او داسے استدلال قرآن کریم کښ په ډیرو ایاتونو کښ شته ﴿فَلْيَنْظُرِ﴾ مراد دَ دے نه نظر دَ عبرت اوفکر کول دی ﴿مَآءٍ دَافِقٍ﴾ مراد دَ انسان نه دَ ادم اوحواء علیهما السلام نه علاوه ټول انسانان دی ﴿دَافِقٍ﴾ په دے کښ اشاره ده چه کومه نطفه بغیرد شهوت (دفق) نه را اوځی نودَ هغے په استعمال سره حمل نه جوړیږی ﴿التَّرَآئِبِ﴾ زجاج نه روایت دے چه ترائب څلور پوښتے دی دَ څی طرف دَ سینے نه اوځلور پوښتے دی دَ ګس طرف دَ سینے نه او مراد ترینه ترائب دَ زنانه دی۔

[۸] دا نتیجه دَ دلیل ده ﴿رَجْعِهٖ﴾ رجع نه مراد دوباره ژوندی کول دی او دا قول غوره دے په نسبت دَ هغه قول سره چه ضمیر مَاءٍ ته راجع شی اګر چه دَ قدرت دَ اللّٰه تعالیٰ نه بعید نه ده۔

[۱۰،۹] ﴿السَّرَآئِرُ﴾ عقیدے، نیتونه، پټ عملونه که ښه وی اوکه بدوی، بغض، حسد، دشمنی، محبت وغیره پکښ ټول داخل دی ﴿فَمَالَهٗ مِنْ قُوَّةٍ﴾ په دے کښ دَ انسان عجز ذکر کوی ﴿قُوَّةٍ﴾ طاقت مالی اوبدنی مراد دے او ﴿نَاصِرٍ﴾ نه خارجی مددګار مراد دے اوپه دے کښ نفی دَ باطل الهه هم داخل ده چه هغوی هم هیڅ مدد نه شی کولے نو رد دے په عقیده دَ شفاعة قهریه باندے۔

[۱۲،۱۱] داهم ذکر دَ شواهدو دے په طریقه دَ قسم سره دَپاره دَ اثبات دَ معاد اواثبات دَ صدق دَ قرآن دے ﴿ذَاتِ الرَّجْعِ﴾ رَجع حرکت دَ اسمان یا حرکت دَ شمس وقمراوستوروپه اسمان کښ او باران اوتلل راتلل دَ ملائکو اونفع ورکول دے ټولو معانیوته عام شامل دے ﴿الصَّدْعِ﴾ صَدع چودل دَ زمکے دی چه دَ هغے نه بوټی او معدنیات اوچینے او اوبه را اوځی۔

[۱٤،۱۳] دا جواب قسم دے ﴿اِنَّهٗ لَقَوْلٌ فَصْلٌ﴾ ضمیر راجع دے قرآن ته اوفصل نه مراد تفصیل دَ حرام او حلال او حق اوباطل دے یا ضمیر راجع دے خبرد دوباره ژوند ته په دے قول کښ چه اِنَّهٗ عَلٰى رَجْعِهٖ لَقَادِرٌ یعنی دا خبرد دوباره ژوندی کولوحق اویقینی دے ﴿بِالْهَزْلِ﴾ هزل باطل اولعب اوهرهغه څیزته وئیلے کیږی چه دَ هغے حقیقت نه وی نو دا مقابل دَ فصل دے چه په معنیٰ دَ حق او دَ کلامِ مفید دے۔

سُوْرَةُ الْاَعْلٰى (۸۷) مَكِّيَّةٌ (۸۰) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۱۹ رُكُوْعَاتُهَا ۱

سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْاَعْلَى ۝١ الَّذِيْ خَلَقَ فَسَوّٰى ۝٢ وَالَّذِيْ قَدَّرَ فَهَدٰى ۝٣ وَالَّذِيْ اَخْرَجَ الْمَرْعٰى ۝٤

پاکی وایه دَ نوم دَ رب ستا چه پورته دے (۱) داسے ذات دے چه پیدائش ئے کړیدے نو برابر کړیدے (۲) او هغه ذات دے چه اندازه ئے کړیده نو هدایت ئے کړیدے (۳) او هغه ذات دے چه راویستلی دی بوټی دَ سریدلو (٤)

(بقیه تفسیر دَ سورة الطارق)

[۱۵،۱۶] دا زجردے سرهٗ دَ سزانه ﴿وَاَكِيْدُ كَيْدًا﴾ کید دَاللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه په مختلف طریقوسره دے په طریقه دَ استدراج سره لکه په سورة اعراف (۱۸۲) کښ او په طریقه دَ ناکام کولو دَ چَل وَل دَ دوی لکه په سورة طور (٤۲) کښ۔ اوپه طریقه دَ امداد کولو دَ حق والوسره۔

[۱۷] دا دعویٰ دَسورة ده یعنی دوی دَپاره عذاب دے لیکن لګ روستودے ﴿فَمَهِّلِ الْكَافِرِيْنَ﴾ یعنی دَ دوی سره په دعوت کښ نرمی کوه او دُعاءِ شر ورته زر مکوه په امید دَایمان راوړلو دَ دوی ﴿اَمْهِلْهُمْ﴾ یعنی هرکله چه دوی اونه منی نو دَ دوی دَ عذاب انتظار اوکړه لګه موده۔

سورة الاعلیٰ

اودَ دے بل نوم سورة سبّح دے۔

ربط: دَ دے سورة دَ مخکښ سورة سره په ځو وجوهو سره دے اوله وجه دا ده چه په مخکښ سورة کښ امروؤ په امهال سره نو په دے سورة کښ امر دے په تسبیح او تذکیر دَ قرآن سره په وخت دَ مهلت کښ ۔ دویمه وجه دا ده چه په هغه سورة کښ تخویف ذکرشونو په دے سورة کښ طریقه دَ نجات ذکر ده دَ عذاب نه۔

دعویٰ دَ سورة: اثبات دَتوحید(۱) کښ اوترغیب الی القرآن (۹) کښ اوزجر په محبت دَ دنیا (۱٤) کښ۔ اوپه دے کښ رد دَ شرك فی التصرف او رد دَ شرك فی العلم دے او اسماء حسنیٰ ئے درے اوصفاتِ فعلیه ئے لس ذکرکړی دی۔

خلاصه دَ سورة: اول امر دے په تسبیح (توحید) سره په اسماء اوصفاتو دَ اللّٰه تعالیٰ سره چه نهه دی تر(۷) پورے او دوه بشارتونه دی په دعوت دَ توحید سره په (۸،٦) کښ ۔بیا دویمه دعویٰ ده یعنی تذکیر بالقرآن او دوه ډِلے دَ خلقو سرهٗ دَ بشارت نه په درے صفتونو سره تر (۱۵) پورے بیا دریمه دعویٰ ده یعنی تزهید فی الدنیا په طریقه دَ زجر سره په (۱۷،۱٦) کښ اواختتام دَ سورة په نقلی دلیل سره دے په (۱۹،۱۸) کښ۔

تفسیر

[۱] ﴿سَبِّحِ﴾ معنیٰ دا چه پاك ګنړه په (عقیده) کښ اوپاکی وایه په ژبه باندے اوپاکی بیانوه په دعوت اوتبلیغ سره دَهرقسم شریك او ولد اوعیب او احتیاج اوعجزنه او دَ هرهغه ځیزنه چه لائق نه دی دَ هغه سره په ذات کښ او په اسماؤ او صفاتواو کارونو دَ هغه اوحکمونو دَ هغه کښ اودا توحید دے ﴿الْاَعْلَى﴾ دا وصف دلیل دے په تسبیح باندے یعنی زیاته علو دَ هغه تقاضا کوی دَ پاکوالی دَ هرقسم نقصان نه، اوحدیث

فَجَعَلَهٗ غُثَآءً اَحۡوٰی ۝۵ سَنُقۡرِئُكَ فَلَا تَنۡسٰۤی ۝۶ اِلَّا مَا شَآءَ اللّٰهُ ؕ اِنَّهٗ یَعۡلَمُ الۡجَهۡرَ وَمَا یَخۡفٰی ۝۷

نو بیا ئے کړځولی دی هغه بوس تور (۵) یقیناً مونږ لولو تاته قرآن نو مه هیروه ته (٦) مګر هغه چه اوغواړی اللّٰه تعالیٰ یقیناً هغه عالم دے په ښکاره او هغه چه پټ دی (۷)

دَ ابوداؤد او احمد کښ راځی چه نبی ﷺ به سبح اسم ربك الاعلی اولوستلونو ورپسے به ئے اُوئیل، سبحان ربی الاعلی، اونورو موقوف احادیثو کښ هم نقل دی۔

[۳،۲] دا دلیلونه په تسبیح (دعویٰ باندے) دی دیته دلیل دَ ایجاد وئیلے شی او په دے کښ ئے ځلورامورډ کړ کړی دی اول خَلق، اوظاهردا ده چه ټول مخلوق مراد دے دویم فسَوّٰی، تسویه دَخلق احسان دَ هغے دے کوم چه ذکردے په سورة سجده(۹) کښ اومراد دَاحسان نه دَهرځیزبدن اواندامونه اواجزاء دَ هغے مناسب جوړول دی اوکله چه عدم تناسب ښکاری هغه خلاف عادت وی دَ نورو حکمتونو دَپاره دریم ﴿وَالَّذِیۡ قَدَّرَ﴾په هرځیزکښ دَهغے مقداراو کیفیتونه اوصفتونه په اندازه سره مقرر کول ځلورم ﴿فَهَدٰی﴾ دا هدایتِ عامه دے یعنی هریوځیزته دَهغوی دَ ژوند تیرولودَخوراك ځښاك وغیره طریقے خودل دی۔

[٥،٤] دا دلیلونه افاقی دَ تربیت دی روستو دَ ایجادنه ﴿الۡمَرۡعٰی﴾ هرقسم بوټی وابنه چه دَ انسانانو اودَ ځاروؤ دَ خوراك دَپاره دی ﴿فَجَعَلَهٗ غُثَآءً﴾ غثاء هغه وابنه بوټی خشاك چه سیلاب ئے په غاړه دَ کنده باندے او غورځوی او اوچو ذرے ذرے بے فائدے بوټوته هم وئیلے شی اګرچه دَ سیلاب په غاړه نه وی۔

[۷،٦] په دے کښ اول بشارت دے اوپه دے کښ دوه زیری دی یو قرآن پوره خودل او دویم دَ هغے دَ حفظ قوت ورکول ﴿سَنُقۡرِئُكَ﴾ دا سورة دَ مکّے دَ ابتدائی سورتونونه دے په دے کښ دا وعده شویوه او هغه وعده اللّٰه تعالیٰ پوره کړه په اختتام دَ قرآن سره ﴿فَلَا تَنۡسٰۤی﴾ دا نفی ده، اخبار صادق دے چه نبی ﷺ نه به قرآن نه هیریږی همیشه ئے په سینه کښ محفوظ وؤ۔ او دویم قول دا دے چه دا نفی په معنیٰ دَ نهی سره ده او نسیان په معنیٰ دَ ترك او دَ غفلت دے یعنی دَ دے دَ لوستلو او دَ عمل کولونه غفلت مه کوه ﴿اِلَّا مَا شَآءَ اللّٰهُ﴾ بنا په معنیٰ دَ اخبار (نفی) باندے اشاره ده یو قسم دَنسخ ته چه هغے ته انساء وئیلے شی لکه سورة بقره (۱۰٦) کښ یا استثناء دَپاره دَ تبرك ده او بنا په معنیٰ دویم (نهی) باندے استثناء منقطع ده یعنی ته خومه هیره وه لیکن که چرے اللّٰه تعالیٰ اوغواړی چه ستانه څه هیر کړی په طریقه دَ منسوخ کولو (او داپه مشیت دَ اللّٰه تعالیٰ سره ده) نو دا معصیت نه دے۔

وَنُيَسِّرُكَ لِلْيُسْرٰى ﴿٨﴾ فَذَكِّرْ إِنْ نَّفَعَتِ الذِّكْرٰى ﴿٩﴾ سَيَذَّكَّرُ مَنْ يَّخْشٰى ﴿١٠﴾ وَيَتَجَنَّبُهَا الْأَشْقَى ﴿١١﴾ الَّذِي
يَصْلَى النَّارَ الْكُبْرٰى ﴿١٢﴾ ثُمَّ لَا يَمُوتُ فِيهَا وَلَا يَحْيٰى ﴿١٣﴾ قَدْ أَفْلَحَ مَنْ تَزَكّٰى ﴿١٤﴾ وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهِ

او اسانوؤ تاته لار دَ اسانئی (۸) نو بیان کړه قرآن یقیناً نفع ورکوی بیان کول (۹) خامخا نصیحت به قبول کړی هغه څوك چه یره کوی (۱۰) او په ډډه به اوسیږی دَ دینه بد بخت (۱۱) هغه چه داخلیږی به اور لوئے ته (۱۲) بیا نه به مړ کیږی په هغے کښ او نه به ژوندے وی (۱۳) یقیناً کامیاب دے هغه څوك چه ځان ئے پاك کړو (۱٤) او یاد ئے کړو نوم دَ رب خپل

[۸] دویم بشارت دے، متفرع دے په سبح باندے ﴿وَنُيَسِّرُكَ﴾ تیسیرپه معنیٰ دَ توفیق ورکولو اودَ اسبابودَ خیر او دَ دعوت الی القرآن پیداکولودے ﴿لِلْيُسْرٰى﴾ مراد دَ دے نه اعمال دَ خیردی چه دَ جنت دَپاره ذریعه ده اوپه هغے کښ دعوت دَ توحید او دعوت الی القرآن داخل دے اشاره ده چه په محنت سره (چه په اخلاص سره وی) کار اسانیږی۔

[۹] دا دویمه دعویٰ دَ سورة ده په اوله دعویٰ باندے یعنی دعوت کول دَ قرآن په طریقه دَ تذکیر او وعظ اوتدریس سره ﴿إِنْ نَّفَعَتِ الذِّكْرٰى﴾ اِن شرطیه په خپله معنیٰ سره دے اومراد دا دے چه تذکیر او تعلیم دَ قرآن کریم نا اهلو خلقو ته پکار نه دے یعنی هغه څوك چه ضد اوعناد کوی یا دَ دنیا دَ مقصد دپاره علم دَ دین ایزده کوی۔

[۱۰،۱۱] روستودَ تذکیرنه ذکر دَ دوه ډلو دے اوله ډله هغه ده چه هغوی ته ذکریٰ نفع ورکوی په دے قول کښ ﴿سَيَذَّكَّرُ مَنْ يَّخْشٰى﴾ یعنی وعظ اوذکر قبلول موقوف دی په خشیت باندے خشیت دَ اللّٰه تعالیٰ نه یا خشیت دَ ورځ دَ حساب نه ۔ او دویمه ډله هغه ده چه هغوی ته ذکریٰ نفع نه ورکوی هغه دا ده ﴿وَيَتَجَنَّبُهَا الْأَشْقَى﴾ اوپه دے کښ اشاره ده چه نفع نه ورکول دَ قرآن نقصان نه دے بلکه دَ هغے سبب تجنب (ډډه کول دَ قرآن نه) دَ دوی دے ﴿الْأَشْقَى﴾ کافر عنادی دے اوشقِي فاسق دے یا دا اسم تفضیل په معنیٰ دَ شقیّ سره دے۔

[۱۲،۱۳] په دے کښ تخویف اخروی دے دویمے ډلے دَپاره ﴿الْكُبْرٰى﴾ په مقابل دَ صغریٰ کښ دے حسن بصری نه روایت دے چه صغریٰ اور دَ دُنیا دے اوکبریٰ اور دَ جهنم دے او فراء وئیلی دی چه نار صغریٰ دپاره دَ مؤمنانو گنهګارانودے چه دَ هغے نه به بیا را اوځی همیشه نه دے او کبریٰ دَپاره دَ کافرانو دے چه همیشه دے په قرینه دَ الاشقیٰ سره ﴿لَا يَمُوتُ فِيهَا وَلَا يَحْيٰى﴾ یعنی مرګ خوبالکل نیشته په قرینه دَ سورة فاطر (۳٦) سره او سورة ابراهیم (۱۷) کښ هم دی او ژوند شته لیکن هغه ژوند خه نفع نشی ورکولے۔

[۱٤،۱۵] دا بشارت دے اولے ډلے ته په فلاح سره په ذکر دَ درے صفاتو سره ﴿تَزَكّٰى﴾ تزکیه دَ عقیدے په توحید سره اوپه اجتناب سره دَ هرقسم شرك نه او تزکیه دَ اعمالو په اتباع دَ سنت سره او دَ ریا اوسمعت نه اوتزکیه دَ بدن په اودس کولو سره او تزکیه دَ مال په اداء دَ زکوٰة او دَ صدقه فطر اوصدقه نفلیه سره دا لفظ دے ټولو معانیوته شامل دے ﴿وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهِ﴾ یعنی ذکر په ژبه سره دَ نوم دَ اللّٰه تعالیٰ کوی په تسبیح او توحید سره دَپاره دَ عمل کولوپه سبّح باندے اوپه تکبیر سره په اول دَ مونځ شروع کولو کښ چه هغے ته

فَصَلّٰى ﴿١٥﴾ بَلْ تُؤْثِرُوْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا ﴿١٦﴾ وَالْاٰخِرَةُ خَيْرٌ وَّاَبْقٰى ﴿١٧﴾ اِنَّ هٰذَا لَفِي الصُّحُفِ الْاُوْلٰى ﴿١٨﴾ صُحُفِ اِبْرٰهِيْمَ وَمُوْسٰى ﴿١٩﴾

نومونځ ئې او کړو (۱۵) بلکه غوره کوئ تاسو ژوند دُنیوی (۱۶) او اخرت غوره دے او همیشه دے (۱۷) یقیناً دا په کتابونو مخکنو کښ شته دے (۱۸) چه کتابونه دَ ابراهیم او موسیٰ(علیهما السّلام) دی (۱۹)

تکبیر افتتاح وئیلے شی اوپه تکبیرات دَ عیدین سره په لارکښ اومصلیٰ کښ داهم ټولوته شامل دے ﴿فَصَلّٰى﴾ صلوٰة په معنیٰ دَ مونځ دے او پنځه مونځونه اوصلوٰة عیدین اوټولو نوافل مونځونوته عام دے۔

[۱۷،۱۶] دا دریمه دعویٰ دَ سورة ده زجر دے په حب دَ دنیا سره۔ ﴿بَلْ﴾ پدے کښ ترقی ده یعنی تاسو تزکیه نه کوئ بلکه ژوند دنیوی غوره کوئ هغه مخکښ کوئ په اخرت باندے دَ هغے دَپاره محنت کوئ او اخرت له محنت نه کوئ۔ وجه دَ غوره والی دا ده چه اخرت مشتمل دے په سعادت بدنیه او روحانیه باندے او دُنیا داسے نه ده او دارنګ مزے دَ دنیا ګڼلے دی دَ مصیبتونو سره او دَ اخرت مزے خالصے دی۔ اودَ اخرت نعمتونه همیشه دی او دَ دنیا متاع فانی ده۔

[۱۹،۱۸] دا دلیل نقلی دے دَ مخکښ کتابونونه ۔ هٰذَا اشاره ده مضمون دَ ټول سورة ته په قول دَ ابوالعالیه سره او اشاره ده مضمون دَ قد افلح ته په قول دَ ابن جریر اواشاره ده مضمون دَ قرآن ته په قول دَ ضحاك کښ ﴿صُحُفِ اِبْرٰهِيْمَ وَمُوْسٰى﴾ داسے په سورة نجم (۳۷،۳۶) کښ هم ذکردی او دَ دے تخصیص دَ دے وجے نه دے چه اهل مکه خو دَ ابراهیمؑ دَ ملت دعویٰ کوله او دَ موسیٰؑ امت په دغه وخت کښ نزدے موجود وؤ۔

سُوْرَةُ الْغَاشِيَةِ (۸۸) مَكِّيَّةٌ (۲۶) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۲۶ رُكُوْعَاتُهَا ۱

هَلْ اَتٰىكَ حَدِيْثُ الْغَاشِيَةِ ۝۱ وُجُوْهٌ يَّوْمَئِذٍ خَاشِعَةٌ ۝۲ عَامِلَةٌ نَّاصِبَةٌ ۝۳ تَصْلٰى نَارًا حَامِيَةً ۝۴
تُسْقٰى مِنْ عَيْنٍ اٰنِيَةٍ ۝۵ لَيْسَ لَهُمْ طَعَامٌ اِلَّا مِنْ ضَرِيْعٍ ۝۶ لَّا يُسْمِنُ وَلَا يُغْنِيْ مِنْ جُوْعٍ ۝۷ وُجُوْهٌ

یقیناً راغلے دے تاته خبر دَ افت پټوؤنکی (۱) بعضِ مخونه به په دغه ورځ ذلیل وی (۲) محنت کوؤنکی ستړے به وی (۳) داخلیږی به اور سخت ګرم ته (٤) څښکولے کیږی به دَ چینے خوټکیدونکے نه (٥) نه به وی دَ دوی خوراك مګر دَ ازغی دار بوټی نه (٦) نه به سربول کوی او نه به فائده ورکوی دَ لوګے نه (۷) بعضِ مخونه به

سورة الغاشيه

ربط: دَ دے سورة دَ ماقبل سره په ډیرو وجوهوسره دے اوله وجه دا ده چه په سورة اعلیٰ کښ من یخشی او اشقی(یریدونکی دَ اللّٰه نه او بدبخت خلق) ذکرکړل نو په دے سورة کښ هغوی له بشارت او تخویف ذکرکوی۔

دعویٰ دَ سورة: تخویف دے منکرینوته او بشارت مؤمنانولره اوتذکیر په قرآن سره دَپاره دَ یاد داشت دَ غاشیه (قیامت) او دَ اسماؤ نه صرف اللّٰه ذکر دے او دوه صفتونه (تعذیب اوحساب کول) ذکردی۔

خلاصه دَ سورة: اول تخویف اخروی دے منکرینوته په لس طریقو سره تر(۷) پورے بیا بشارت دے مؤمنینوته په لس طریقو سره تر (۱٦) پورے بیا څلور دلیلونه دی په توحید باندے او په هغے کښ اشاره ده څلور صفتونو دَ مُذَکِّر(داعی) ته (انقیاد، نفع، استقلال، تواضع) بیا امر دے په تذکیر بالقرآن دپاره دَ یاد داشت دَ قیامت او دَ توحید۔ اوبیا تسلّی ده په (۲۲) کښ او اختتام دَ سورة دے په تخویف سره پشان دَ ابتداء دَ سورة۔

تفسیر

[۱] په دے کښ تذکیر دے په باره دَ قیامت کښ ﴿اَلْغَاشِيَةِ﴾ هغه افت چه پټوی خلقولره په هیبتونو او ګبراهتو نو سره اویونوم دے دَ نومونو دَ قیامت نه یانوم دَ اور دَ جهنم دے چه پټوی به ټول بدنونو دَ جهنمیامو لره۔

[۲،۳] دا تقسیم دَ خلقو دے دوه قسمونوته نو په دے ایاتونو کښ ذکردَ یو قسم دے چه هغے ته اشقیٰ (بدبخت) وئیلے شویدے او دوی ته تخویف دے په لس طریقوسره﴿نَاصِبَةٌ﴾دا هم په دنیاکښ دی یعنی ځان ستړے کوی په مونځونو روژواو نورعبادتونو وغیره سره۔ یا په اخرت کښ دے یعنی ستړی اوتکلیف تیروؤنکی به وی په اوردَ جهنم کښ۔ امام بخاری وئیلی دی چه دا په باره دَ نصاریٰ (رهبان) کښ دے۔ نو معلومه شوه چه دا ایت دَ عموم دَ الفاظو دَ وجے نه هربدعتی ته شامل دے۔

[٤،٥] ﴿عَيْنٍ اٰنِيَةٍ﴾ دَ اَنْي نه ماخوذ دے او وخت ته رسیدلوته وئیلے شی او مراد دا دے چه په ګرمولو کښ اخری وخت ته رسیدلے ده یعنی دا چینے سختے ګرمے دی لکه سورة رحمٰن (٤٤) کښ دی۔

يَوْمَئِذٍ نَّاعِمَةٌ ﴿٨﴾ لِّسَعْيِهَا رَاضِيَةٌ ﴿٩﴾ فِي جَنَّةٍ عَالِيَةٍ ﴿١٠﴾ لَّا تَسْمَعُ فِيهَا لَاغِيَةً ﴿١١﴾ فِيهَا عَيْنٌ
جَارِيَةٌ ﴿١٢﴾ فِيهَا سُرُرٌ مَّرْفُوعَةٌ ﴿١٣﴾ وَّأَكْوَابٌ مَّوْضُوعَةٌ ﴿١٤﴾ وَنَمَارِقُ مَصْفُوفَةٌ ﴿١٥﴾ وَزَرَابِيُّ
مَبْثُوثَةٌ ﴿١٦﴾ أَفَلَا يَنظُرُونَ إِلَى الْإِبِلِ كَيْفَ خُلِقَتْ ﴿١٧﴾ وَإِلَى السَّمَاءِ كَيْفَ رُفِعَتْ ﴿١٨﴾ وَإِلَى الْجِبَالِ كَيْفَ

په دغه ورځ تروتازه وی (۸) په وجه د عمل خپل به خوشحاله (رضا) وی (۹) په جنت اوچت کښ به وی (۱۰) نه به اوری په هغے کښ بے فائدے خبرے (۱۱) په هغے کښ به چینه وی روانه (جاری) (۱۲) په هغے کښ به تختونه وی اوچت کړے شوی (۱۳) او ګلاسونه کیخودلے شوی (۱٤) او تکیه ګانے به وی صفونه صفونه (۱۵) او قالینونه به وی خواره کړے شوی (۱٦) ایا دوی نه ګوری اوښانو ته چه څنګه پیدا کړے شویدی (۱۷) او اسمان چه څنګه اوچت کړے شویدے (۱۸) او غرونه چه څنګه

[۷،٦] روستو د ذکر د مشروب نه ذکر د طعام دے او هریو مستقل عذاب دے ﴿ضَرِيعٍ﴾ ازغی دارېوتے دے چه په زمکه پورے پیوست وی چه لوند وی نو شبرق ورته وئیلے شی اوچه اوچ شی نو ضریع دے او هغے ته هیڅ څاروے نزدے نه ورځی د ډیرتریخ والی اوبدبو یئی د وجے نه اوزهرقاتل دے۔ سوال: سورة الحاقه (۳٦) کښ حصرد طعام په غسلین کښ شوے دے اودلته په ضریع کښ اودواړه جدا جدا خیزونه دی؟ جواب: دا حصرونه په اعتبارد مختلف اقسامود جهنمیانودی یا په اعتبارد مختلف اوقاتوسره دی۔ ﴿لَايُسْمِنُ وَلَايُغْنِيْ مِنْ جُوْعٍ﴾ د طعام دوه فائدے دی لویه فائده ئے دا ده چه بدن له ترقی ورکړی اوادنیٰ فائده دا ده چه لوګه بنده کړی اوطعام د جهنم کښ دا دواړه فائدے نیشته۔

[۱۱،۱۰،۹،۸] دا ذکر د دویم قسم خلقو دے په طریقه د بشارت په لس وجوهو سره ﴿عَالِيَةٍ﴾ اوچت دے په اسمانونو باندے یا قدر اومنزلت ئے اوچت دے په اسمانونو باندے ﴿لَاغِيَةً﴾ دا لفظ عام دے هر لغو کلام دروغ اوغیبت اوبهتان اوکلمات د کفر اوشرك کنځل کول اوهره خبره د معصیت ته او لغو به د دے وجے نه نه اوری چه جنتیان به ټول د حکمت اود الله تعالیٰ د حمد وثنا اورشتیا خبرے کوی۔

[۱۲] ﴿عَيْنٌ﴾ جنس دے مراد ترینه ډیرے چینے دی یعنی کافور، سلسبیل، تسنیم ﴿جَارِيَةٌ﴾ په مخ د زمکه باندے به بغیر د کندونه روانے وی د هر جنتی کور ته به د هغه د ارادے موافق چلیږی۔

[۱۳] ﴿مَرْفُوْعَةٌ﴾ قدر اوشان به ئے اوچت وی یا اوچت به وی په هواکښ اوکله چه جنتی په هغے باندے کیناستل اوغواړی نو دا تختونه به ورته راکوزشی نو بیا به پورته کړے شی۔

[۱٤] ﴿مَوْضُوْعَةٌ﴾ یومعنیٰ دا چه تیار به کیخودلے شوے وی دنهرونو اوچینوپه غاړه باندے دویمه معنیٰ داچه د دوی مخے ته به کیخودلے شویوی د دوی د خوشحالئے دپاره۔

[۱۵] ﴿نَمَارِقُ﴾ جمع د نمرقة ده تکیه ګانے یاواړه بالختونه چه د یوبل سره به په قطارکښ کیخودلے شوے وی۔

[۱٦] ﴿زَرَابِيُّ﴾ جمع د زربیّة ده هغه فراشونه اوقالینونه چه لمنوته ئے نری زونډی لګولے شوے وی ۔ په دے څلورو نعمتونوکښ اشاره ده لکه چه د مالدارانوپه مجلسونوکښ یو طرف ته ګلاسونه اوجګونه وی نوبل طرف ته تکیه ګانے وی اوقالینونه وی نو د جنت مجلسونه به د دے نه ډیر اوچت او بهتر وی۔

نُصِبَتْ ﴿١٩﴾ وَإِلَى الْأَرْضِ كَيْفَ سُطِحَتْ ﴿٢٠﴾ فَذَكِّرْ ۖ إِنَّمَا أَنْتَ مُذَكِّرٌ ﴿٢١﴾ لَسْتَ عَلَيْهِمْ بِمُصَيْطِرٍ ﴿٢٢﴾ إِلَّا
مَنْ تَوَلَّىٰ وَكَفَرَ ﴿٢٣﴾ فَيُعَذِّبُهُ اللَّهُ الْعَذَابَ الْأَكْبَرَ ﴿٢٤﴾ إِنَّ إِلَيْنَا إِيَابَهُمْ ﴿٢٥﴾ ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا حِسَابَهُمْ ﴿٢٦﴾

اودرولے شویدی (۱۹) او زمکے تہ چہ څنګہ غورولے شویدہ (۲۰) نو بیان کړہ (قرآن) یقیناً تہ بیان کوؤنکے ئے (۲۱) نہ ئے تہ پہ دوی باندے (څوکیدار) مقرر کړے شوے (۲۲) مګر هغه څوك چه مخ ئے واړؤ او کفر ئے اوکړو (۲۳) نو عذاب به ورکړی هغه لره اللّٰه تعالیٰ عذاب لوئے (۲٤) یقیناً زمونږ طرف ته راګرځیدل دَ دوی دی (۲۵) بیا یقیناً په مونږ باندے حساب کول دَ دوی دی (۲٦)


[۱۷] په دے کښ اوپه روستو ایت کښ دلیلونه دَ قدرت دَ اللّٰه تعالیٰ دی په جزا او سزا ورکولو باندے۔ او دارنګ په دے کښ جواب دَ وهم دے چه دَ فیها سررمرفوعة سره تعلق لری، وهم دا دے چه هغه پالنګونه دَ جنت اوچت دی نو جنتیان به ورته څه رنګے ورخیژی؟ نو جواب ئے اوکړو چه اوښانوته اوګورئے چه څومره اوچت دی لیکن په وخت دَ سوریدلو کښ خکته شی۔ اودارنګ دَ روستوفذکرسره تعلق لری یعنی هرکله چه ته مذکِّر اوداعی ئے نوپه تاکښ څلور اخلاق پکار دی انقیاد دَلویو اووړو سره په نرمئے سره په شان دَ اوښ ﴿كَيْفَ خُلِقَتْ﴾ یعنی په حیواناتو کښ دا عجیبه پیدائش او عجیبه صفتونو والاحیوان دے ځکه چه حیوانات څلور قسمونه دی پیو والا، سورلئے والا، خوراك والا (چه غوښه ئے خورلے کیږی) اوبار اوړونکی اوپه اوښ کښ دا څلور واړه صفتونه شته دے۔ اوهاتی اګرچه ډیرعجیبه دے لیکن دا فائدے پکښ نیشته اوپه عربو کښ نزدے موجودهم نه وؤ۔

[۱۸] داهم دلیل دَقدرت دَاللّٰه تعالیٰ اودلیل دَتوحید دے اوتعلق لری دَ اکوابٌ موضوعةٌ سره یعنی په اسمان کښ نمر سپوګمئے اوستوری په خائسته ترتیب سره کیخودلے شویدی نودا مثال دَګلاسونودے چه ترتیب سره ئے کیخودلی دی په جنت کښ۔

[۱۹] دا دریم دلیل دَ قدرت او دَ توحید دَ اللّٰه تعالیٰ دے اومثال دے دَپاره دَ نمارق مصفوفة ﴿كَيْفَ نُصِبَتْ﴾ په مختلف شکلونو او رنګونو اوقطارونو سره په مختلفو منافعو باندے مشتمل او درولے شویدی

[۲۰] دا څلورم دلیل دَ توحید او دَ قدرت دَ اللّٰه تعالیٰ دے او متعلق دے دَ زرابیٌّ مبثوثة سره په طریقه دَمثال سره۔

[۲۲،۲۱] دا ترغیب اوتشجیع ده په دعوت کولوباندے اوفاء ئے ذکرکړه یعنی روستودَ ذکرکولودَ نعمتونو اودلیلونودَ توحیدنه دَ دے تذکیرپکار دے غفلت کوؤنکوته ﴿إِنَّمَا أَنْتَ مُذَكِّرٌ﴾ داعلت دَ ذکردے اومراد دَ دے دا دے چه ستاپه ذمه باندے صرف تذکیرکول دی اوکه داخلق نظرنه کوی په دلیلونوکښ اوایمان نه راوړی نوپه تا باندے هیڅ وبال نیشته ﴿بِمُصَيْطِرٍ﴾ هغه چاته وئیلے شی چه مقرروی په څه څیزباندے دَ امیردَ طرف نه دَ هغه څیزدَساتنے کولواوانتظام کولواودَ هغے دَ احوال دَلیکلودَپاره اوهیڅ تجاوزپکښ نه کوی لکه خط چه دَسطرنه تجاوزنه کوی اوکله چه پخپله ذمه وارئے کښ نقصان اوکړی نوپه دهٔ باندے تاوان وی۔ یعنی نبی ﷺ دَ دے مخلوق په ایمان راوړلواوتذکیرقبلولوباندے ذمه وارنه دے اونه زور اور دے۔



(بقیه تفسیر دَ سورة الغاشیه)

[۲۴،۲۳] ﴿تَوَلّٰى وَكَفَرَ﴾ اول په اعتبار دَ عمل سره او دویم په اعتبار دَ عقیدے سره دے ﴿الْعَذَابَ الْاَكْبَرَ﴾ دَ اخرت عذاب اکبر دے اودَ دنیا عذاب اصغر اوادنیٰ دے نومنکرینولره په دنیاکښ هم عذابونه شته دے لیکن عذاب دَ اخرت ډیرلوئے دے

[۲۶،۲۵] دا تسلی ده نبی ﷺ ته متعلق دے په فَذَكِّرْ پورے اوپه دے دواړه جملوکښ ئے ظرف(الینا، علینا) مقدم کړی دی دَپاره دَ مبالغے او دَ تاکید، او دَپاره دَ حصر هم دے ځکه چه رجوع په اخرت اوحساب کښ خاص ده په اللّٰه تعالیٰ پورے اوحساب موقوف دے په علم محیط او قدرت کامله باندے او دا خاص دے په اللّٰه تعالیٰ پورے ۔ سیوطی په درمنثورکښ دَ قتاده نه روایت کړے دے چه هغه به دَ دے په اخرکښ وئیل۔ (الی اللّٰهِ الایاب وعلی اللّٰه الحساب)

سورة الفجر

ربط: دَ دے سورة دَ مخکښ سورة سره په ځوورجو سره دے اوله وجه دا ده چه مخکښ ذکرشوتخویف په عذاب اخروی سره نو په دے سورة کښ دَ عذاب نه دَ بچ کیدلو طریقه ذکرکوی چه هغه تضرع کول دی اللّٰه تعالیٰ ته په اوقاتِ مبارکه کښ دویمه وجه دا ده چه مخکښ عذاب اخروی ذکرشونو په دے سورة کښ دَ عذاب دنیوی نمونے ذکرکوی۔

دعویٰ دَ سورة: ترغیب دے تضرع الی اللّٰه ته په اوقاتِ مبارکه کښ سرهٔ دَ اجتناب دَ مرض اوسبب مرض نه۔ مأخذ دَ دعوے په (۵) کښ دے او مرض ذکر دے په (۱۲،۱۱) کښ اواسباب مرض په (۲۰،۱۹،۱۸،۱۷) کښ او دَ اللّٰه تعالیٰ دَ اسماؤنه ئے رب اته ځله ذکرکړیدے دپاره دَ اثبات دَ توحید دَ ربوبیت۔

خلاصه دَ سورة: پنځه اوقات مبارکه باندے قسم ذکردے او دعویٰ دَ سورة تر(۵) پورے ده بیا تخویف دنیوی دے هغه چالره چه تضرع الی اللّٰه نه کوی په ذکر دَ درے قومونو دَ مکذبینو سره چه عاد وؤ ثمود وؤ تکبرئیے کوؤ په قوت دَ بدنونو سره اوثمود وؤ چه تکبر ئیے کوؤ په قوت دَ مکانونو اوصنعتونو سره اوفرعون وؤ چه تکبر ئیے کوؤ په قوت دَ بادشاهئی سره تر(۱۰) پورے بیا مرض ذکرشوچه طغیان اوفساد دے په (۱۲،۱۱) کښ سرهٔ دَ عذاب نه په (۱۴،۱۳) کښ بیا زجردے په محبت دَ دنیا سره چه هغه سبب دَ کرامت او اهانت ګڼړی تر(۱۶) پورے او دَ دے محبت دنیوی دَ وجے نه ځلور اوصاف قبیحه (چه هغه مرضونه دی) ذکرکړی دی تر(۲۰) پورے۔ بیا تخویف اخروی دے په اته وجوهو سره تر(۲۶) پورے اوبشارت دے په شپږ وجوهو سره تر اخره پورے۔

وَالْفَجْرِ ﴿۱﴾ وَلَيَالٍ عَشْرٍ ﴿۲﴾ وَّالشَّفْعِ وَالْوَتْرِ ﴿۳﴾ وَالَّيْلِ اِذَا يَسْرِ ﴿۴﴾ هَلْ فِيْ ذٰلِكَ قَسَمٌ لِّذِيْ حِجْرٍ ﴿۵﴾ اَلَمْ تَرَ
كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِعَادٍ ﴿۶﴾ اِرَمَ ذَاتِ الْعِمَادِ ﴿۷﴾ الَّتِيْ لَمْ يُخْلَقْ مِثْلُهَا فِي الْبِلَادِ ﴿۸﴾ وَثَمُوْدَ الَّذِيْنَ جَابُوا

قسم دے په وخت دَ صبا باندے (۱) او په لس شپو باندے (۲) او په تکے (جفت) او نا تکے (طاق) باندے (۳) او په شپه باندے چه کله روانه شی (٤) یقیناً شته په دیکښ پوره حصه عقل والو لره (۵) ایا نه ګورے چه څنګه کار اوکړو رب ستا دَ عادیانو سره (٦) چه اِرم دی ستنو والا (۷) هغه داسے دی چه نه دی پیداکړے شوی دَ هغوی پشان په ټولو ښارونو کښ (۸) او ثمودیان هغه چه جوړولے ئے (په تراش کولو سره)

تفسیر

[۲،۱] دا اول قسم دے اوفَجر، خومعلوم دے چه صبا ته وئیلے کیږی لیکن په مراد دَ دے کښ ډیراقوال دی (۱) فجردَ هرے ورځے (۲) فجردَ یوم النحر(۳) فجردَ یوم عرفه (٤) صلوٰة دَ فجر﴿وَلَيَالٍ عَشْرٍ﴾ دا دویم قسم دے او مراد دَ فجر نه دَ یوم النحرنه وړاندے لس شپے اوورځے دَ ذوالحجه دَ میاشتے دی یا مراد دَ دے نه لس اخری دَ رمضان دی۔

[۳] ﴿وَالشَّفْعِ﴾ هغه عدد دے چه پوره پوره تقسیم کیدے شی لکه دوه څلور (یعنی جوړے والا) او وَتر، هغه دے چه پوره نه تقسمیږی لکه یو، درے وغیره (یعنی بے جوړے) اودَ دے په مراد کښ دَ مفسرینو ډیر اقوال دی۔ اول داچه مکانونه دَ حج مراد دی یعنی بیت اللّٰه او جمرات اوعرفه او منیٰ اومزدلفه ټول وتر وتردی اوصفا ومروه شفع ده۔ دویم داچه اعمال دَ حج کښ دوه قسمونه دی طواف، سعی، رمی دَ جمراتو وتر وتر دی او رکعتان دَ طواف شفع ده دریم داچه مونځونه مراد دی یعنی دوه څلور رکعتونه شفع دی۔ او درے اویو رکعت وتر دے۔

[٤] داپنځم قسم دے مراد دَ اللَّیلِ نه هرشپه ده چه تیریږی اودَ تهجد وخت وی۔لفظ دَ یَسردلالت کوی چه دا قول غوره دے۔

[۵] دا جواب قسم دے اوهَل په معنیٰ دَ اِنَّ سره دے۔ ذٰلِكَ، اشاره ده پنځووارو قسمونو ته په تاویل دَمذکورسره ﴿قَسَمٌ﴾ په معنیٰ دَ حلف سره دے اوخازن وئیلی دی چه په معنیٰ دَمکتفیٰ دے یعنی دا قسمونه فائِده ورکوی عقل والوته هغوی په دے قسمونوباندے اکتفاء اوباورکوی یا قسم په معنیٰ دَقِسم سره دے په معنیٰ دَحصے سره یعنی په دے مبارك اوقاتوکښ عقل والاحصّه موندلے شی۔اوپه دے اوقاتوکښ اللّٰه تعالیٰ ته عاجزی اوتضرع کوی﴿حِجْرٍ﴾ په اصل کښ هغه ځیزته وئیلے شی چه منع کول کوی اوعقل ته دَ دے وجے نه وئیلے شی چه عقل هم منع کوؤنکے دے دَقبائحونه اودَ عبث وخت تیرولونه او دَ فانی دُنیا دَ محبت کولونه۔

[۸،۷،٦] روستو دَ ذکر دَ حال دَ تضرع کوؤنکونه حال دَ متکبرینو ذکرکوی په طریقه دَ تخویف دنیوی سره او دَ هغوی درے نمونے ذکرکوی اول هغه قوم چه دَ هغوی استکبار وؤ په کثرت دَ مال او قوت دَ بدنونو سره یعنی عادیان ﴿بِعَادٍ﴾ عاد دا نوم دَ یونیکه دَ دوی وؤ نو بیا دَ قبیلے نوم اوګرځیدو ﴿اِرَمَ﴾

الصَّخْرَ بِالْوَادِ ﴿۹﴾ وَفِرْعَوْنَ ذِي الْأَوْتَادِ ﴿۱۰﴾ الَّذِينَ طَغَوْا فِي الْبِلَادِ ﴿۱۱﴾ فَأَكْثَرُوا فِيهَا الْفَسَادَ ﴿۱۲﴾ فَصَبَّ
عَلَيْهِمْ رَبُّكَ سَوْطَ عَذَابٍ ﴿۱۳﴾ إِنَّ رَبَّكَ لَبِالْمِرْصَادِ ﴿۱۴﴾ فَأَمَّا الْإِنسَانُ إِذَا مَا ابْتَلَاهُ رَبُّهُ فَأَكْرَمَهُ وَ
نَعَّمَهُ ۙ فَيَقُولُ رَبِّي أَكْرَمَنِ ﴿۱۵﴾ وَأَمَّا إِذَا مَا ابْتَلَاهُ فَقَدَرَ عَلَيْهِ رِزْقَهُ ۙ فَيَقُولُ رَبِّي أَهَانَنِ ﴿۱۶﴾ كَلَّا

کتے په لمنو دَ غرونو کښ (۹) او فرعون میخونو والا (۱۰) هغه کسان چه سرکشی ئے کړیده په ښارونو کښ (۱۱) نو ډیر ئے خورکړے وؤ په هغے کښ فساد (۱۲) نو را اوغورځوله په هغوی باندے رب ستا درې (کوړه) دَ عذاب (۱۳) یقیناً رب ستا خامخا په ځائے دَ څوکئے کښ دے (۱٤) نو هر چه انسان دے هر کله چه ازمیښت اوکړی په دهٔ رب دَ دهٔ نو عزت ورکړی دهٔ لره او نعمتونه ورکړی دهٔ لره نو دے وائي رب زما عزت راکړو ما لره (۱۵) اوهرکله چه ازمیښت اوکړی په دهٔ باندے نو تنګه کړی په دهٔ باندے روزی دَ دهٔ نو دے وائي رب زما سپك والے اوکړو زما (۱٦) هیڅرے داسے نه ده

اشاره ده چه دا عاد اُولیٰ دے ځکه چه عاد ځوئے دَ اِرم اوهغه ځوئے دَ عوص او هغه ځوئے دَ سام او هغه ځوئے دَ نوح علیه السلام وؤ ﴿ذَاتِ الْعِمَادِ﴾ معنیٰ دا ده چه دوی اکثرپه داسے خیموکښ اوسیدل چه په ستنو باندے اولاړے وے یا داچه دَ دوی بدنونه دنګ دنګ پشان دَ اوکدوستنو وؤ۔

[۹] دا دویمه نمونه ده ﴿الَّذِينَ جَابُوا الصَّخْرَ﴾ په دے کښ دَ دوی صنعت کارئے ته اشاره ده یعنی دوی به ګټے تراش کولے او دَ هغے نه ئے اباد ئے اومختلف شکلونه او نقشونه جوړول ﴿بِالْوَادِ﴾ مراد ترینه خاص وادی القریٰ ده یا عام مراد دے یعنی لمنے دَ غرونو چه په هغے کښ دوی اوسیدل۔

[۱۰] دا دریمه نمونه ده یعنی فرعونیان چه تکبرئیے کوؤ په قوت دَ بادشاهئی باندے ﴿ذِي الْأَوْتَادِ﴾ داکنایه ده دَ ډیر فوج پولیس اولښکرنه چه په هغے سره ئے حکومت خپل کلك کړے وؤ یامراد داچه دهٔ به چاله غټه سزا ورکوله نو لاسونو اوخپو باندے به ئے ورله میخونه ټك وهل لکه چه اسیه رضی الله عنها سره ئے داسے کړی وؤ۔

[۱۲،۱۱] په دے کښ دَ دغه مکذبینومرضونه ذکرشویدی، طغیان او فساد نو اول سبب دے دَ دویم دَپاره ﴿طَغَوْا﴾ طغیان تجاوز دے دَ حد شرعی نه په عقیده اوپه عمل کښ ﴿الْفَسَادَ﴾ قتل، کفر او ټولو معاصی ته شامل دے شرینی وئیلی دی چه چا عمل اوکړوپه غیردَما امرا لله نه اوحکم ئے کوؤپه بندګانو کښ په ظلم کولوسره نوهغه مفسد دے اودا مرضونه دَعام منکرینو بندګانودی۔

[۱٤،۱۳] دا تفریع دَعذاب ده په اسبابودَ هغے باندے ﴿إِنَّ رَبَّكَ﴾ په دے جمله کښ تاکید دَ عذاب ورکولو دے ﴿لَبِالْمِرْصَادِ﴾ مرصاد هغه مکان ته وئیلے کیږی چه په هغے کښ څوکئے کیدیشی دَپاره دَ راګیرولو دَ دُښمن هغے ته مورچه هم وئیلے کیږی۔ نو دا کنایه ده چه الله تعالیٰ عملونه دَ بندګانو وینی او خبرے دَ دوی اوری دَ هغه نه هیڅ پټ نه دی۔

[۱٦،۱۵] په دے اٰیاتونوکښ زجردے دغه مکذبینوته چه وسعت دَ دنیاکرامت ګڼری اوتنګسیا دَرزق اوغریبی اهانت ګڼری اومراد دَ دے نه محبت دَ دنیا دے نه چه هغه سبب دَ مرض دے ﴿فَأَكْرَمَهُ﴾ مراد دَ دے نه کرامت دنیوی دے چه خلق ئے دَ دنیا دَ مال اوجاه دَ وجے نه عزت کوی ﴿أَكْرَمَنِ﴾ (سوال) الله تعالیٰ

بَلْ لَّا تُكْرِمُوْنَ الْيَتِيْمَ ﴿۱۷﴾ وَلَا تَحٰٓضُّوْنَ عَلٰى طَعَامِ الْمِسْكِيْنِ ﴿۱۸﴾ وَتَاْكُلُوْنَ التُّرَاثَ اَكْلًا لَّمًّا ﴿۱۹﴾ وَّتُحِبُّوْنَ
الْمَالَ حُبًّا جَمًّا ﴿۲۰﴾ كَلَّآ اِذَا دُكَّتِ الْاَرْضُ دَكًّا دَكًّا ﴿۲۱﴾ وَّجَآءَ رَبُّكَ وَالْمَلَكُ صَفًّا صَفًّا ﴿۲۲﴾ وَجِايْٓءَ يَوْمَىِٕذٍ

بلکه نه کوئے تاسو عزت دَ یتیم (۱۷) او نه ورکوئے تیزی په خوراك دَ مسکین باندے (۱۸) او خورئے تاسومال دَ مړی په غوندے (ټول) خوراك (۱۹) او مینه کوئے دَ مال سره مینه ډیره (۲۰) هیڅرے داسے نه ده پکار هر کله چه همواره شی زمکه په پوره همواریدلو سره (۲۱) او راشی رب ستا او ملائك صفونه صفونه (۲۲) او رابه وستلے شی په دغه ورځ

دیته اکرام وئیلے دے نو دے انسان ته په دے خبره (اَکْرَمَنِ) ولے زجرکوی؟ (جواب۱) مراد دا دے چه دا کلمه دَ ذمّ په طور دَ شکر دَ اللّٰه تعالیٰ سره نه ده بلکه ځان دَ دے حقدار ګڼړی لکه قول دَ قارون سورة قصص(۷۸) کښ ﴿اَهَانَنِ﴾ یعنی غریبی اهانت ګڼړی او دَ دے وجے نه عاد، ثمود اوفرعونیانو په خپلو زمانو کښ غریبان مؤمنان سپك اوذلیل ګڼړل لکه چه دَ هغوی په قصصو کښ په مختلف سورتونو کښ تیرشویدی۔ تنګسیا دَ رزق اهانت نه دے دَ دے وجے دَ اکثر صالحینو بندګانو رزقونه تنګ وی اګرچه هغوی په نیز دَ اللّٰه تعالیٰ عزتمند وی۔

[۱۸،۱۷] دا ځلور اسباب ذَتوهین ذکرکوی ۔اودا اخلاق دَ دنیا پرست کافر اومشرك او دَ غافل مسلمان دی۔اوفراء وئیلی دی چه کَلّا دلته په معنیٰ دَ لم یکن ینبغی سره دے یعنی انسان لره دا اقوال مناسب نه دی چه اکرمن و اهانن، بلکه دهٗ لره پکار دی شکرکول په وخت دَ غِنَاکښ اوصبرکول په وخت دَ فقیرئے کښ۔ دَمخکښ اقوالونه زیات دَ دوی دَپاره ناکاره اعمال شته دے (اول) ﴿لَاتُكْرِمُوْنَ الْيَتِيْمَ﴾ اکرام دَ یتیم دَ هغه دَ حق نه مدافعت کول دَ هغه دَ مال نه ځان ساتل دَ هغه پالنه کول دَ هغه په سرباندے دَ شفقت لاس رابښکل دی (دویم) ﴿وَلَاتَحَاضُّوْنَ﴾ دا عام دے یوبل ته تیزی ورکول اوخپل اهل ته اوځان ته تیزی ورکول دی ﴿عَلٰى طَعَامِ﴾ طعام په معنیٰ دَ اطعام سره دے﴿الْمِسْكِيْنِ﴾ اوپه دے کښ اشاره ده چه خپل ځان دَپاره دَ مال دَ صدقاتو کوشش کوی یا مالداروته دَ خوراك ورکولو کوشش کوی دَ ریا اوخودنے دپاره دَ مسکین خیال نه ساتی۔

[۲۰،۱۹] ﴿اَكْلًا لَّمًّا﴾ یعنی حلال اوحرام جمع کوی تمیزدَ حلال اوحرام نه کوی یعنی په میراث کښ خپله حصّه هم اخلی او دَکمزورو ورثاء و(لکه لور، خوراوښځه) دَ هغے حصّه هم ځان له اخلی اودارنګ دَمړی دَکورنه درے مابنامونه (شومے) دَ جمعے په شپه اوچهلم اوکلیزه اوپه حیله دَ اسقاط سره مالونه خورل هم په دے کښ داخل دی (ځلورم) ﴿حُبًّا جَمًّا﴾ نفس محبت دَ مال خوطبعاً په عامو انسانانو کښ شته لیکن غالب او کثیر محبت دَ حلال حرام فرق نه کوی اودین ته پکښ فرصت نه ورکوی هروخت دَمال په ساتنه او جمع کولو کښ مشغول وی نوداسے محبت قبیح دے۔

[۲۱] دَ دے ایت نه تذکیر په احوالو دَ قیامت سره شروع کوی او داعلاج دے دَ تیرذکرشوی مرضونو دَپاره ﴿دَكًّا دَكًّا﴾ تکرار دَ کثرت او دَ مبالغے دَپاره دے اودا کنایه ده دَ زلزلے دَ ټولے زمکے نه۔

[۲۲] ﴿وَجَآءَ رَبُّكَ﴾ مذهب دَ سلف صالحینو دا دے چه مجئی په خپله حقیقی معنیٰ سره دے یعنی

بِجَهَنَّمَ ۙ يَوْمَئِذٍ يَّتَذَكَّرُ الْاِنْسَانُ وَاَنّٰى لَهُ الذِّكْرٰى ﴿۲۳﴾ يَقُوْلُ يٰلَيْتَنِيْ قَدَّمْتُ لِحَيَاتِيْ ﴿۲۴﴾ فَيَوْمَئِذٍ
لَّا يُعَذِّبُ عَذَابَهٗٓ اَحَدٌ ﴿۲۵﴾ وَّلَا يُوْثِقُ وَثَاقَهٗٓ اَحَدٌ ﴿۲۶﴾ يٰٓاَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ ﴿۲۷﴾ ارْجِعِيْٓ اِلٰى رَبِّكِ رَاضِيَةً
مَّرْضِيَّةً ﴿۲۸﴾ فَادْخُلِيْ فِيْ عِبٰدِيْ ﴿۲۹﴾ وَادْخُلِيْ جَنَّتِيْ ﴿۳۰﴾ ع ۱۴

جهنم لره په دغه ورځ به نصیحت قبلوی انسان او دَ کوم ځائے نه به وی دهٔ لره نصیحت (۲۳) دے به وائي هائے ارمان دے چه عمل مے مخکښ رالیږلے وے دپاره دَ دے ژوند خپل (۲۴) نو پدغه ورځ نه شی ورکولے عذاب دَ عذاب دَ هغه پشان هیڅوك (۲۵) او نه شی کولے تړل دَ هغه پشان تړل هیڅوك (۲۶) اے نفس یقین کوؤنکیه (۲۷) اوګرځه طرف دَ رب خپل ته خوشحاله خوشحاله کړے شوے (۲۸) نو داخل شه په بندګانو زما کښ (۲۹) او داخل شه جنت زما ته (۳۰)

راتلل بغیر دَ تشبیه اوتمثیل اوتاویل نه۔ هرکله چه صفتونه دَ اللّٰه تعالیٰ دَ مخلوق دَ صفتونو سره هیڅ مشابهت نه لری نو دا اعتراضونه نشی کیدلے چه اللّٰه تعالیٰ لره مجئی (راتلل) ثابت شی نو انتقال اومکان اوجهت به ورله ثابت شی او هغه دَ دے نه پاك دے ځکه دا اعتراضونه خو هغه وخت کیدے شی چه مجئی دَ اللّٰه تعالیٰ دَ مخلوق پشان شی او داسے نه ده ﴿صَفًّا صَفًّا﴾ دا تکرارهم کثرت دَ صفونوته اشاره ده او دَ هر اسمان ملائك به جدا جدا صفونه شی۔

[۲۳] داهم دَ قیامت احوال دی دَ تذکیردپاره ﴿وَجِایْٓءَ یَوْمَئِذٍ﴾ حدیث دَ مسلم کښ وارد دی چه جهنم به داسے راوستلے شی چه دَ هغه به اویازره مهارونه وی اوهرمُهار به اویازره ملائك راکاږی۔

[۲۴] او دا ترقی ده دَ ماقبل نه یعنی نفع ورکول خولرے خبره ده بلکه افسوس اوحسرت به کوی ﴿قَدَّمْتُ﴾ مفعول پټ دے یعنی عملاً صالحاً ﴿لِحَیَاتِیْ﴾ حیاة نه مراد دنیوی ژوند دے نولام په معنیٰ دَ فِی سره دے یا مراد دَ حیاة نه ژوند دَ اخرت دے چه هغه حیاةِ حقیقیه دے او په معنیٰ دَ نجات سره دے نولام پخپله معنیٰ سره دے یا مضاف حذف دے یعنی لحصول حیاتی۔

[۲۵،۲۶] په دیکښ ذکردَ هیبت اودَ شِدّت دَ عذاب دے او ﴿عَذَابَهٗٓ، وَثَاقَهٗٓ﴾ یعنی اللّٰه تعالیٰ عذاب او وثاق دَجهنمیانوبل چاته دَ انسانانونه نه سپاری پخپله اوپه واسطه دَ زبانیة ملائکو سره ئیے ورکوی۔

[۲۷،۲۸،۲۹،۳۰] داذکردَ حال دَ مؤمنانودے روستودَ حال دَ اهلِ جهنم نه ﴿یٰٓاَیَّتُهَا النَّفْسُ﴾ دا وئیلے شی په وخت دَ ځنکدن کښ او په وخت دَ بعث بعد الموت کښ ﴿الْمُطْمَئِنَّةُ﴾ په دے کښ دَ مفسرینو ډیر اقوال دی لیکن مرجع دَ هغے یوه ده چه کامل ایمان لرونکے دَهرقسم شرك نه ځان ساتونکے اوتسلی حاصلوؤنکے په ذکر دَ اللّٰه تعالیٰ او یقین کوؤنکے په احکامودَ اللّٰه تعالیٰ او راضی په قضا دَا للّٰه تعالیٰ چه دا ټول صفتونه یکښ موجود وی ﴿رَاضِیَةً مَّرْضِیَّةً﴾ رضا په اعتبار دَ ډیرونعمتونوسره ده اوترضیة په اعتباردَعملونودَ دهٔ سره ده یعنی مقبول دے په نیز دَ اللّٰه تعالیٰ په سبب دَ عملونو سره ﴿فَادْخُلِیْ فِیْ عِبَادِیْ﴾ په اوله توجیه باندے مطلب دا دے چه په عالم برزخ کښ مستقردَ مؤمنانو ارواحوته به داخل کړیشی او په دویمه توجیه باندے مطلب داچه په بدنونو دَ بندګانوکښ به داخل کړیشی یاروستو دَ بعث بعد الموت نه په جماعت دَ بندګانوصالحینو کښ به داخل کړے شی ﴿وَادْخُلِیْ جَنَّتِیْ﴾ اوشربینی دَ قفال نه نقل کړیدے

سُوْرَةُ الْبَلَدِ (۹۰) مَكِّيَّةٌ (۳۰) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۲۰ رُكُوْعَاتُهَا ۱

لَآ اُقْسِمُ بِهٰذَا الْبَلَدِ ۙ﴿۱﴾ وَاَنْتَ حِلٌّۢ بِهٰذَا الْبَلَدِ ۙ﴿۲﴾ وَوَالِدٍ وَّمَا وَلَدَ ۙ﴿۳﴾ لَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ فِيْ كَبَدٍ ؕ﴿۴﴾

داسے نه ده قسم کوؤم په دے بنار باندے (۱) او ستا بے عزتی کیدیشی په دے بنار کښ (۲) او قسم دے په پلار او په هغه چه اولاد ئیے دے (۳) یقیناً پیداکړیدے مونږ انسان لره په محنت کولو کښ (٤)

(بقیه تفسیر دَ سورة الفجر) چه دا جملے اگرچه دَ امرونودی لیکن په معنیٰ دَ خبرسره دی۔

سورة البلد

ربط: دَ دے سورة مخکښ سره په څو وجوهو سره دے اوله وجه دا ده چه مخکښ سورة کښ ترغیب وؤ تضرع کولوته په اوقاتودَ استجابت کښ نوپه دے سورة کښ ترغیب دے صالح محنت کولوته اوتحذیردے دَ ناکاره محنت نه۔ دویمه وجه دا ده چه په هغه سورة کښ زجر وؤ په عدم اکرام دَ یتیم اوعدم اطعام مسکین باندے نو په دے سورة کښ ترغیب ورکول دی په اکرام او اطعام دَ یتیم اومسکین باندے سرهٔ دَ ایمان نه۔

دعویٰ دَ سورة: ترغیب دے دَتحمّل دَ محنت کولوپه صالح طریقے سره او اجتناب کولوته دَ محنت سیّئه نه په (٤) کښ اوبدے کښ صفات فعلیه دَ اللّٰه تعالیٰ درے ذکرکړیدی۔ خَلق دَانسان جعل دَ اندامونو او هدایت۔

خلاصه دَ سورة: دوه شهادتونه ذکرکوی په دعویٰ دَ سورة باندے تر(٤) پورے بیازجر دے په مشقت سیّئه باندے په (٦) کښ سرهٔ دَ ناکاره عقیدے نه په (۷،۵) کښ اوله عقیده انکار دَ قدرت دَ اللّٰه تعالیٰ نه او دویمه عقیده انکار دَ علم دَ اللّٰه تعالیٰ نه او دا منشا ده دَپاره دَ ناکاره مشقت کولو۔ بیا ذکر دَ څلورو انعاماتو دے په (۱۰،۹،۸) کښ چه په هغے سره تمیز کیدلے شی په مینځ دَ بنه او بد مشقت کښ۔ بیا ذکر دے دَ مشقت صالحه په شپږ امورو سره سرهٔ دَ بشارت نه تر(۱۸) پورے او هغه ته ئیے نوم ایخے دے (عقبه) بیا تخویف اخروی دے مشقت سیئه کوؤنکی ته په (۲۰،۱۹) کښ۔

تفسیر

[۱] ﴿بِهٰذَا الْبَلَدِ﴾ دا اول قسم دے او اجماع ده دَ مفسرینو چه مراد دَ دے نه مکه مکرمه ده چه هغه ام القریٰ او ام البلاد ده او دَ دے نه ټوله زمکه غورولے شویده۔

[۲] ﴿حِلٌّ﴾ مفسرینودَ دے دیر وجوه لیکلی دی یوداچه دا په معنیٰ دَ مستقبل سره دے اوبشارت دَ فتح مکه دے روستو دَ هجرت کولونه یعنی تالره به اجازت درکړے شی دَ قتال کولوپه دے بلد کښ۔ دویمه وجه دا ده چه حِل استحلال دَ حرمت ته وئیلے شی لکه په لاتحلّوا شعائراللّٰه کښ یعنی مشرکان ستا بے عزتی کوی په دے بنار کښ په اراده دَ قتل سره اوپه ویستلوسره اوپه سب وشتم سره۔

[۳] دا دویم قسم دے اومراد دَ والدنه آدمعليه السلام اودَ ماولد نه ټول ذریت (اولاد) دَ هغه دے او دا قول دَ

اَيَحْسَبُ اَنْ لَّنْ يَّقْدِرَ عَلَيْهِ اَحَدٌ ۝۵ يَقُوْلُ اَهْلَكْتُ مَالًا لُّبَدًا ۝۶ اَيَحْسَبُ اَنْ لَّمْ يَرَهٗٓ اَحَدٌ ۝۷ اَلَمْ نَجْعَلْ لَّهٗ
عَيْنَيْنِ ۝۸ وَلِسَانًا وَّشَفَتَيْنِ ۝۹ وَهَدَيْنٰهُ النَّجْدَيْنِ ۝۱۰ فَلَا اقْتَحَمَ الْعَقَبَةَ ۝۱۱ وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا الْعَقَبَةُ ۝۱۲ فَكُّ

ایا گمان کوی چه اوبه نه لری قدرت پده باندے هیڅوك (۵) دے وائي خرچ کړیدی ما مالونه ډیر غوند (۶) ایا گمان کوی چه نه وینی دهٔ لره هیڅوك (۷) ایا نه دی جوړے کړی مونږ دهٔ لره دوه سترگے (۸) او یوژبه او دوه شونډے (۹) او خودلی مودی دهٔ ته دوه لارے (۱۰) نونه دے ختلے دے په کنډاؤ باندے (۱۱) او څه پته ده تاته چه څه دے کنډاؤ (۱۲) خلاصول

مجاهد اوحسن بصری دے او اکثرو مفسرینوغوره کړے دے۔

[٤] دا جواب قسم دے ﴿كَبَدٍ﴾ په اصل کښ شدّت ته وئیلے شی او مرادترینه سختئے تیرول دی بدنی وی اوکه مالی وی، اختیاری سختے وی(یعنی عملونه دَ خیر اوشر) یا غیر اختیاری او مناسبت دَ قسمونو او دَ جواب قسم دا دے چه زمکه دَ مکے خصوصاً دَ ډیرومشقتونوزمکه ده تردے پورے چه غوره دَ ټول مخلوق چه محمد ﷺ دے په هغه باندے هم پکښ ډیر تکلیفونه تیر شوی دی او دارنګ دَد ے ساکنان چه ادمﷺ او دَ هغه نسل دے هروخت په مشقت اوتکلیف کښ دی دَ چامشقت صالح دے او دَ چامشقت سیئ (بد) دے۔ نو دا دلیل اوشاهد دے چه دَ انسان په ژوندکښ ضرورمحنت او مشقت شته لیکن دهٔ لره ضروری دی چه مشقت دَ خیر اوکړی او دَقدرت او دَ علم دَ اللّٰه تعالیٰ نه ځان ازاد نه ګڼړی۔

[۵] دَ دے ایت نه تر اخر دَ سورة پورے دوه قِسمونه ذکرکوی یو شقی (چه ناکاره مشقت کوی) او دویم سعید (چه صحیح مشقت کوی) په دے ایت کښ زجر دے په عقیده دَ انسان شقی چه دَ قدرت دَ اللّٰه تعالیٰ نه انکارکوی دَدے وجے نه دَ هغه دَ حکمونو دَ لاندے ژوند نه تیروی۔

[٦] ﴿يَقُوْلُ﴾ دا قول دَ دهٔ په طریقه دَ تکبر او دَ فخر سره دے ﴿اَهْلَكْتُ﴾ مراد دَ دے نه هغه دے چه په دشمنئ اوپه مخالفت دَ سنت دَ نبیﷺ کښ ئے ډیر مالونه خرچ کړی دی۔ اودا جمله هرهغه انفاق دَ مال ته شامل ده چه خلاف دَ سنت دَ نبیﷺ نه خرچ کیږی۔ لکه په اشاعت دَ شرك او کفر اوبدعاتو کښ، او په رسمونو رواجونو سره، اوپه فسق وفجور فحاشئ وغیره کښ۔

[۷] دا بل زجردے په عقیده دَ شقی انسان چه اللّٰه تعالیٰ غیب دان نه ګڼړی او دَ دے وجے نه مشقت سیئه کوی اوهرکله چه اللّٰه تعالیٰ قادر اوغیب دان نه ګڼړی نوحساب کتاب هم نه منی۔

[۸،۹،۱۰] پدیکښ تذکیردے په نعمتونو سره او هغه داسے نعمتونه دی چه په هغے سره په صحیح او باطل محنتونو کښ فرق هم کولے شی ﴿هَدَيْنٰهُ﴾ مراد دَ هدایت نه بیان دے په وحی سره یا خودنه ده په عقل ورکولو سره ﴿النَّجْدَيْنِ﴾ نجد په اصل کښ اوچت ځائے ته وئیلے شی او مراد ترینه لاردَ خیر او دَ شر اوحق اوباطل ده چه په عقل سلیم او وحی دواړو سره دَ هغے په مینځ کښ بښکاره فرق کیدے شی۔ حاصل دا دے چه دَ دے نعمتونوپه ذریعه دَ حق اوباطل په مینځ کښ تمیز کیدلے شی نوولے دا انسان (شقی) محنت سیئه کوی۔

[۱۱] په دے کښ ترغیب دے مشقت صحیحه کولوته او رد دے په ماقبل عملونو اوعقیدو باندے چه په هغے سره کامیابی نه حاصلیږی ﴿الْعَقَبَةُ﴾ لار په غرکښ چه سخته وی اوپه هغے کښ اوچت والے هم

رَقَبَةٍ ﴿۱۳﴾ اَوْ اِطْعٰمٌ فِيْ يَوْمٍ ذِيْ مَسْغَبَةٍ ﴿۱۴﴾ يَّتِيْمًا ذَا مَقْرَبَةٍ ﴿۱۵﴾ اَوْ مِسْكِيْنًا ذَا مَتْرَبَةٍ ﴿۱۶﴾ ثُمَّ كَانَ مِنَ
الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ وَتَوَاصَوْا بِالْمَرْحَمَةِ ﴿۱۷﴾ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْمَيْمَنَةِ ﴿۱۸﴾ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِنَا
هُمْ اَصْحٰبُ الْمَشْئَمَةِ ﴿۱۹﴾ عَلَيْهِمْ نَارٌ مُّؤْصَدَةٌ ﴿۲۰﴾ ع

دَ ستې (۱۳) یا خوراك ورکول په ورځ دَ لوږې کښ (۱٤) یتیم چه رشته دار وی (۱۵) یا مسکین ته چه خاورو والاوی (۱٦) بیا وی دے دَ هغه چانه چه ایمان ئیے راوړے دے اوپخه خبره کوی یوبل ته دَ صبر کولو او پخه خبره کوی یو بل ته دَ رحم کولو (۱۷) دغه کسان دی ښه قسمت والا (۱۸) او هغه کسان چه کفر ئیے کړیدے زمونږ په ایاتونو باندے دوی دی ناکاره قسمت والا (۱۹) په دوی باندے به اور وی بند کړے شوے دَ هر طرف نه (۲۰)

وی اوهغے ته کنډاؤ وئیلے کیږی۔او دا په طریقه دَ تشبیه سره ده یعنی ایمان او اعمال صالحه او انفاق دَ مال په صحیح مصرفونوکښ (چه دا مشقت صحیحه دے) پشان دَکنډاؤدَ غږدے چه په هغے باندے ورتیریدل ګران وی لیکن انسان دَ هغے په ذریعه سره دَیوملك نه بل ملك ته ور رسیږی۔

[۱۲] پدے جملے سره عظمت شان دَ عقبه ته اشاره ده اوپه دے سره تعلیم دَ عقبه ورکوی په معنیٰ تشبیهی سره۔

[۱۳] په شپږامورو سره تفسیرد عقبے کوی اول ﴿فَكُّ رَقَبَةٍ﴾ مراد دَ رقبه نه پوره انسان دے اوخلاصول دَ هغه دَ غلامئے نه، مرئی والی نه دَ قید دَ قرضونونه او دَکړئے ګناهونو نه اوجهل نه او دَ مظلومیت نه۔

[۱٤،۱۵،۱٦] په دے ایاتونوکښ دویم اودریم خصلت ذکرکوی ﴿مَسْغَبَةٍ﴾ سغب لوګه او اشتها دَ طعام ته وئیلے کیږی او خوراك ورکول فضیلت اوثواب دے لیکن په وخت دَ لوګه کښ زیات ثواب دے۔ ﴿يَوْمٍ ذِيْ مَسْغَبَةٍ﴾ یعنی داسے وخت چه انسان په هغے کښ اوګے وی یا داسے زمانه چه په هغے کښ قحط وی اوداسے ورځ چه په هغے کښ په یوکورکښ مړے شوے وی نو هغه کور والاطعام نشی تیارولے ځکه چه مشغول وی په غم باندے نو هغوی لره طعام ورکول هم ثواب دے او دیته اشاره ده په هغه حدیث کښ چه جعفرؓ شهید شونو نبیﷺ خپل کورته راغے نو اُوئیل ئیے اِصْنَعُوْا لِاٰلِ جَعْفَرَ طَعَامًا فَاِنَّهٗ اَتَاهُمْ مَا يُشْغِلُهُمْ (الحدیث) ﴿ذَامَقْرَبَةٍ﴾ دَ دے تخصیص ئیے دَ زیات اجراودَ ډیرحق دَ وجے نه اوکړوځکه چه په حدیث کښ راغلی دی چه صدقه په مسکین باندے یوه صدقه ده اوپه ذورحم(خپلوان) باندے دوه دی صدقه هم ده اوصله رحمی هم ده (ترمذی) ﴿ذَامَتْرَبَةٍ﴾ مراد دَ دے نه داسے مسکین دے چه کورئیے نیشته بستره ئیے نیشته اهلُ عیال ئیے ډیر دے یعنی ډیر محتاج دے په نسبت دَ نورو مسکینانو او فقراؤ سره۔

[۱۷] په دے کښ درے خصلتونه نورذکرکوی۔ ایمان خوشرك اوقید دے دَپاره دَ عملونو،نوکله محکښ ذکرشی اوکله په مینځ کښ اوکله روستو۔لیکن هرکله چه په دے سورة کښ مقصود ذکردَ احسان دَ مخلوق دے دَ دے وجے نه هغه ئیے محکښ ذکرکړو دَ ایمان نه ﴿وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ﴾ په مشقت او محنت کښ تکالیف وی چه په هغے باندے صبرکول ضروری دی دَدے وجے نه دَ دے خصلت تخصیص ئیے اوکړو او صبرنه مراد مضبوط پاتے کیدل دی په دین باندے اوپه اعمالودَ خیرباندے سرهٔ دَمصیبتونونه ﴿وَتَوَاصَوْا

سُوْرَةُ الشَّمْسِ (۹۱) مَكِّيَّةٌ (۲۶) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۱۵ رُكُوْعَاتُهَا ۱

وَالشَّمْسِ وَضُحٰىهَا ﴿۱﴾ وَالْقَمَرِ اِذَا تَلٰىهَا ﴿۲﴾ وَالنَّهَارِ اِذَا جَلّٰىهَا ﴿۳﴾ وَالَّيْلِ اِذَا يَغْشٰىهَا ﴿۴﴾ وَالسَّمَآءِ وَمَا

قسم دے په نمر باندے او په رنړا دَ هغے په وخت دَ ساخت کښ (۱) او قسم دے په سپوږمئی هر کله چه راشی په نمر پسے (۲) اوقسم دے په ورځ باندے هر کله چه ښکاره کړی نمر لره (۳) او قسم دے په شپه باندے هر کله چه پټ کړی نمر لره (٤) او قسم دے په اسمان او په هغه چا

(بقیه تفسیر دَ سورة البلد) ﴿بِالْمَرْحَمَةِ﴾ هرکله چه مقصد په سورة کښ احسان کول دی دَ مخلوق سره او هغه پیداکیږی دَ رحم اوترس کولو سره په کمزورو باندے دَ دے وجے نه داخصلت ئے خاص ذکرکړو۔

[۱۸] دا بشارت دے په دغه صفتونو باندے۔

[۱۹،۲۰] په دے کښ ذکر دے دَ (شقی) باطل مشقت کوؤنکی چه مبداء دَ هغے کفرکول دی په ایاتونو دَاللّٰه تعالیٰ سره اوتخویف دے ﴿مُؤْصَدَةٌ﴾ چه بند کړے شوے به وی دَ هرطرف نه یعنی هیڅ سورے اولار دَ وتلوبه نه وی۔

سورة الشمس

ربط : دَدے سورة دَ ماقبل سره په ځووجوهو سره دے اوله وجه دا ده چه په مخکښ سورة کښ دوه قسمونه دَ انسانانوذکر کړل نو پدے سورة کښ دَ هغوی په مینځ کښ فرق دَعاقبت ذکرکوی۔ دویمه وجه دا ده چه په هغه سورت کښ زجروژوپه طغیان کوؤنکو دَ دے امت باندے نوپه دے سورة کښ ذکردے دَ طاغیانودَ مخکنو امتونونه چه ثمودیان دی۔

دعویٰ دَ دے سورة : تفرقه په مینځ دَ عاقبت دَ دوه ډلو کښ ده سرهٔ دَ تخویف دنیوی نه یوے ډلے ته، اواللّٰه تعالیٰ خپل دوه نومونه ذکرکړیدی۔ اللّٰه، رب او اوه صفات فعلیه دی دَپاره دَ معرفت دَ اللّٰه تعالیٰ ۔

خلاصه دَ دے سورة : اول څلور شواهد ذکرکوی دَپاره دَ دعوے دَ سورة تر(۱۰) پورے بیا تخویف دنیوی په واقعه دَ ثمودیانوسره دَ هغوی طغیان اوتکذیب او عقر ذکر دے اودَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه دمدمه اوتسویه ذکرشویده۔

تفسیر

[۱،۲] دا درے قسمونه دی اول قسم ﴿وَالشَّمْسِ﴾ دے قرآن کریم او سنت کښ چه دَ شمس څومره صفات اومنافع ذکرکړیدی یا په عقل سلیم او حواسو سره چه دَ دے کومے فائدے ښکاره شویدی په دے لفظ کښ هغه ټولوته اشاره ده ۔دویم قسم ﴿وَضُحٰىهَا﴾ دے ضُحیٰ زیاتے رنړاته وئیلے کیږی نو وخت دَ ساخت کښ دَ نمر رنړا ډیره شی اوګرمی پکښ کمه وی نو فائده ئے زیاته وی په ضرر باندے ۔دریم قسم ﴿وَالْقَمَرِ اِذَا تَلٰىهَا﴾ مراد دَ دے نه دَ اولے شپے میاشت ده چه هرکله نمر مغرب کښ غائب شی نو دغه وخت سپوګمئے ښکاره شی اوبیا په نمر پسے زرغائبه شی او په دغه وخت کښ دَ دے رنړا هم ډیره کمه وی یا

بَنٰىهَا ۝٥ وَالْاَرْضِ وَمَا طَحٰىهَا ۝٦ وَنَفْسٍ وَّمَا سَوّٰىهَا ۝٧ فَاَلْهَمَهَا فُجُوْرَهَا وَتَقْوٰىهَا ۝٨ قَدْ اَفْلَحَ
مَنْ زَكّٰىهَا ۝٩ وَقَدْ خَابَ مَنْ دَسّٰىهَا ۝١٠ كَذَّبَتْ ثَمُوْدُ بِطَغْوٰىهَآ ۝١١ اِذِ انْۢبَعَثَ اَشْقٰىهَا ۝١٢ فَقَالَ

چه جوړ کړیدے اسمان (۵) او قسم دے په زمکه باندے او په هغه چا چه غوړولے ده دا زمکه (٦) اوقسم دے په نفس باندے او په هغه چاچه دائیے برابر جوړ کړیدے (۷) نو خودلے ئیے ده هغه ته لار دَ بدئے او دَ تقویٰ (۸) یقیناً کامیاب دے هغه خوك چه پاك ئیے کړو ځان خپل (۹) او یقیناً ناکام دے هغه خوك چه ګلوډ ئیے کړو ځان خپل (۱۰) دَ دروغو نسبت اوکړو ثمودیانو په سبب دَ سرکشئی خپلے (۱۱) کله چه را اوچت شو بد بخت دَ هغوی (۱۲) نو اوئیل

مراد دَ دے نه دَ خوارلسمے شپے سپوږمئے ده چه هرکله نمر مغرب کښ غروب اوکړی نو په دغه وخت سپوږمئے دَ مشرق نه راښکاره شی لیکن بیائیے هم رنړا دَ نمرنه کمه ده۔

[۴،۳] په دے کښ هم دوه قسمونه دی۔ ځلورم قسم ﴿وَالنَّهَارِ اِذَا جَلّٰىهَا﴾ ضمیر راجع دے شمس ته اونسبت دَ تجلیه دَنمرنهارته په دے وجے سره دے چه په وخت دَ نهار کښ هغه ښکاره شویدے اوپه دے قید کښ اشاره ده چه دَ نهار فائدے هم ډیرے دی لیکن زیاتے فائدے په هغه وخت کښ دی چه نمر ښکاره وی وریځ نه وی دَ دے وجے نه دَ دے وخت تخصیص ئیے اوکړو۔ پنځم قسم ﴿وَالَّيْلِ اِذَا يَغْشٰىهَا﴾ هرچه پټول دَ شپے وی رنړا دَ نمر لره نو په تدریج سره دی یعنی نمرغائب شی نو سُور والے پاتے شی سوروالے چه غائب شی نو بیا سپین والے باقی وی بیا سپین والے غائب شی نوټوله توره تیاره شی۔

[٦،۵] شپږم قسم ﴿وَالسَّمَآءِ وَمَا بَنٰىهَا﴾ اسمان په ډیرومنافعو باندے مشتمل دے هغه ټولوته اشاره ده دَ دے وجے نه وَمَا بناهائیے په عطف سره ذکرکړیدے اووم قسم﴿وَمَا بَنٰىهَا﴾ دے یعنی اسمان سرهٗ دَ صفت دَ بنا دَ هغه نه ﴿وَالْاَرْضِ وَمَا طَحٰىهَا﴾ دا اتم اونهم قسم دے۔ طَحَا نه مراد غوړول سرهٗ دَ راویستلو دَ بوټو او خزانو اوچینونه دی اودَحَا صرف دَغوړولوپه معنیٰ دے۔

[۷] دا لسم قسم دے ﴿وَنَفْسٍ﴾ یعنی هریونفس،نوټول انسانان ترینه مراد دی دلته هم اشاره ده صفاتو او کمالاتودَ کامل انسانانو ته ﴿وَمَا سَوّٰىهَا﴾ دا یؤولسم قسم دے اودَ تسویه (برابرول) نه مراد ټول اطوار دَ پیدائش سرهٗ دَ شکل اوقدوقامت دَ انسان نه دی۔

[۸] مراد دَ الهام نه تقدیر دَ فجور اوتقویٰ دے لکه چه حدیث صحیح دَ مسلم او احمد کښ ذکر دی بل قول دا دے چه الهام په معنیٰ دَبیان اودَتفصیل کولودے اوالهام په لغت کښ خیراوشردواړو کښ استعمالیږی اوپه اصطلاح خاص کښ صرف په خیرکښ استعمالیږی۔ اوسلف صالحینو وئیلی دی چه دا ایت دلیل دے چه خالق دَ فجوراودَ تقویٰ اودَ خیراوشر اللّٰه تعالیٰ دے په دے کښ رد دے په قدریه فرقه باندے۔

[۱۰،۹] دا جواب قسم دے اودعویٰ دَ سورة ده چه فرق دے په عاقبت دَ دواړو قسمونو انسانانوکښ۔ ﴿مَنْ زَكّٰىهَا﴾ یعنی بنده پاك کړوخپل نفس لره په هغه عقیده اوعملونوسره چه سورة بلدکښ ذکرشول، اوبنده بربادکړوخپل نفس لره په هغه عقیده اواعمالو سره چه په سورة البلد کښ ذکرشول﴿دَسّٰىهَا﴾مراد دلته ګمراه کیدل بربادیدل دی اوپه ګناهونوکښ ورداخلیدل دی اویوقول دا دے چه ځان په جماعت دَ

لَهُمْ رَسُوْلُ اللّٰهِ نَاقَةَ اللّٰهِ وَسُقْيٰهَا ﴿۱۳﴾ فَكَذَّبُوْهُ فَعَقَرُوْهَا ۫ فَدَمْدَمَ عَلَيْهِمْ رَبُّهُمْ بِذَنْۢبِهِمْ فَسَوّٰىهَا ﴿۱۴﴾ وَلَا يَخَافُ عُقْبٰهَا ﴿۱۵﴾

دوی ته رسول دَ اللّٰه تعالیٰ (لحاظ اوکړئے) دَ اوښے دَ اللّٰه تعالیٰ او دَ وار (نمبر) دَ اوبو دَ هغے (۱۳) نو دروغژن اُوئیل هغه ته او ټکړے ئے کړه هغه اوښه نو تباهی راوستله په دوی باندے رب دَ دوی په سبب دَ ګناه دَ دوی نو برابر ئیے کړه هغه په ټولو باندے (۱٤) اونه یریدلو اللّٰه تعالیٰ دَ انجام دَ دے کارنه (۱۵)

صالحینوکښ داخل کړی دَ هغوی سره تشبیه کوی اوحال داچه په عمل اوعقیده کښ دَ هغوی نه مخالف وی۔

[۱۲،۱۱] په دے کښ تخویف دنیوی دے په مثال دَ ثمود سره متعلق دے دَ قَدخَابَ مَنْ دَسّٰهَا، سره۔ ﴿بِطَغْوٰهَآ﴾ طغیان ئیے دَ دے وجے نه ذکرکړو چه دوی سرهٔ دَ علم نه کفرکړے وؤ ﴿اِذِ انْۢبَعَثَ﴾ دا دلیل دَ تکذیب دے او دائیے لوئے جرم دے چه کومه معجزه چه دوی طلب کړے وه دَ هغے توهین ئیے اوکړو۔ ﴿اَشْقٰهَا﴾ سورة قمر(۲۹) کښ ذکرشویدے او هغه ته قداربن سالف وئیلے کیدلو۔

[۱۳] ﴿رَسُوْلُ اللّٰهِ﴾ نه مراد صالح علیه السلام دے۔

[۱۵،۱٤] مخکښ تکذیب عام مراد وؤ اودلته تکذیب دَ دے قول مراد دے چه نَاقَةَ اللّٰهِ اه۔ ﴿فَدَمْدَمَ﴾ دمدمه په اصل کښ عذاب عام کول او باربار راوستل اوهلاکول او برابره ول دی دلته مراد هلاکت راوستل دی په ټول قوم باندے ﴿بِذَنْۢبِهِمْ﴾ مفرد دے مراد ترینه جنس ګناهونه دی طغیان، تکذیب اوعقر یا مراد ترینه ګناه دَ تکذیب دے چه ټول پکښ شریك وؤ ﴿وَلَا يَخَافُ عُقْبٰهَا﴾ په دے کښ اشاره ده غلبے او قدرت دَ اللّٰه تعالیٰ ته چه دَ عذاب دَ تاوان نه نهٔ ویریږی۔

سُوْرَةُ اللَّيْلِ (۹۲) مَدَنِيَّةٌ (۹) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۲۱ رُكُوْعَاتُهَا ۱

وَالَّيْلِ اِذَا يَغْشٰى ۝۱ وَالنَّهَارِ اِذَا تَجَلّٰى ۝۲ وَمَا خَلَقَ الذَّكَرَ وَالْاُنْثٰٓى ۝۳ اِنَّ سَعْيَكُمْ لَشَتّٰى ۝۴ فَاَمَّا

قسم دے په شپه باندے کله چه را اوغوړیږی (۱) او قسم دے په ورځ باندے کله چه روښانه شی (۲) او قسم دے په هغه ذات چه پیدا کړے دے نارینه او زنانه (۳) یقیناً عملونه (کوششونه) ستاسو قسما قسم دی(٤) نو هغه

سورة اللّيل

او سورة وَاللّيل ورته هم وئیلے شی۔

ربط: دَ دے سورة دَ محکمیں سره په څو وجوهو سره دے اوله وجه دا ده چه په محکمیں سورة کښ تفرقه دَ عاقبت دَ فریقینو ذکرشوه نو په دے سورة کښ دَ هغے علت ذکرکوی چه هغه تفرقه دَ عقیدے او دَ عملونو ده ۔ دویمه وجه داده چه په هغه سورة کښ تخویف دنیوی ذکرشونوپه دے سورة کښ هغه اعمال ذکرکوی چه په هغے سره امن حاصلیږی دَ عذاب الٰهی نه۔

دعویٰ دَ سورة: تفرقه ده په عقیده او اعمالو کښ په (٤) کښ او ذکرَ یونوم دَ اللّٰه تعالیٰ دے چه رب دے اوپنځه فعلی صفتونه پکښ ذکردی۔

خلاصه دَ سورة: اول دوه شاهدان ذکرکوی په دعویٰ دَ سورة باندے تر(٤) پورے بیا تفصیل دَ دغه فرق دے احوال دَ یوفریق تر(۷) پورے او احوال دَ دویم فریق تر(۱۱) پورے بیا ترغیب دے په دوه ایاتونو (۱۲،۱۳) کښ بیا تخویف اخروی دے یوے ډلے ته په ذکر دَ درے صفتونو دَ هغوی تر (۱٦) پورے او بشارت دے بلے ډلے ته په ذکر دَ پنځه حالاتو سره تر(۲۱) پورے۔

تفسیر

[۱،۲] دا دوه قسمونه دی ﴿اِذَا يَغْشٰى﴾ مراد ترینه پټول دَ څیزونودی په تیرے سره دَپاره دَ سکون دَ هر څیز خپل ځائے ته اودپاره دَ راحت اوخوب کولو اودَ تهجدکولواودَ نورو ډیرو فوائِدو دپاره ﴿اِذَا تَجَلّٰى﴾ رنړا دَ ورځے سبب دے دَتیرودَ زوال دَپاره اودَپاره دَحرکت کولوپه زمکه کښ دَ طلب دَرزق دپاره اودَ لیدلودَ دلیلونودَ قدرت اودَ توحید دَ اللّٰه تعالیٰ دپاره ۔نومعلومه شوه چه دَ شپے او ورځ په اثارو او فائِدو کښ ډیرفرق دے۔

[۳] دا دریم قسم دے دَ اللّٰه تعالیٰ په خپل ذات باندے په صفت دَ خلق سره اوتخصیص دَ خلق دَ ذکراوانثیٰ ئے دَدے وجے نه کړے دے چه دَدوی په پیدائش او صفتونو کښ ډیرفرق دے نو هغے فرق ته اشاره ده او مراد دَ الذَّكَرَ وَالْاُنْثٰى، نه ټول مذکر اومؤنث دی که دَ انسانانونه دی اوکه دَ نورو حیواناتونه دی۔

[٤] دا جواب دے ﴿سَعْيَكُمْ﴾ سعی خاص ده دَ عمل نه څکه سعی هغه عمل دے چه دَ هغے اهتمام کیدے شی اوپه هغے کښ حتی الامکان کوشش کیدے شی ﴿لَشَتّٰى﴾ جمع دَ شتیت ده مختلف دَ یوبل نه چه یوعمل دَ خیر کوی نو بل عمل دَ شرکوی یو مطیع دے بل عاصی دے یا یودَ دُنیا دپاره سعی کوی نوبل دَ اخرت اودَ دین دپاره او دارنګ اختلاف دے په جزا او سزا کښ هم۔

مَنْ اَعْطٰى وَاتَّقٰى ۝٥ وَصَدَّقَ بِالْحُسْنٰى ۝٦ فَسَنُيَسِّرُهٗ لِلْيُسْرٰى ۝٧ وَاَمَّا مَنْۢ بَخِلَ وَاسْتَغْنٰى ۝٨ وَكَذَّبَ
بِالْحُسْنٰى ۝٩ فَسَنُيَسِّرُهٗ لِلْعُسْرٰى ۝١٠ وَمَا يُغْنِيْ عَنْهُ مَالُهٗٓ اِذَا تَرَدّٰى ۝١١ اِنَّ عَلَيْنَا لَلْهُدٰى ۝١٢ وَاِنَّ
لَنَا لَلْاٰخِرَةَ وَالْاُوْلٰى ۝١٣ فَاَنْذَرْتُكُمْ نَارًا تَلَظّٰى ۝١٤ لَا يَصْلٰىهَآ اِلَّا الْاَشْقَى ۝١٥ الَّذِيْ كَذَّبَ وَتَوَلّٰى ۝١٦

څوك چه ور ئے كړو حق او تقوای ئے اوكړه (٥) او رشتیا ئے اوګنړله خائسته خبره (٦) نو خامخا اسانه به كړو هغه ته لار دَ اسانئے (٧) او هغه څوك چه شومتیا ئے اوكړه او ځان ئے بے پروا كړو (٨) او تكذیب ئے اوكړو دَ خائسته خبرے (٩) نو روان به كړو هغه لره په لار دَ سختئ (١٠) او فائده به ورنكړی دهٗ ته مال دَ دهٗ كله چه اورغړی (١١) یقیناً زمونږ په ذمه باندے خامخا هدایت دے (١٢) او یقیناً مونږ لره اختیار دَ اخرت او دَ دنیا دے (١٣) نو یره دركووُم تاسو ته دَ اور نه چه لمبے وهی (١٤) نه به داخلیری هغے ته مګر بد بخت سړے (١٥) هغه كس چه دورغژن ئے ګنړلے وی (حق لره) او مخ ئے اورلے وی (١٦)

[٦،٥] په دے كښ بیان دَ سعی دَ خیر دے او دَ هغے درے اسباب ئے ذكر كړیدی اول ﴿اَعْطٰى﴾ یعنی اعطاء دَ ایمان او دَ طاعت اواخلاص اوتوبه اوشكراواحسان په مال ورکولو اوبدن اونیت سره یعنی نفس اوبدن دَ دهٗ پوره مطیع دے دویم ﴿وَاتَّقٰى﴾ تقوٰی، ترك دَ جمیع منهیاتو او مشتبهاتوته شامل ده دَ شرك دَ ټولو اقسامونه اودَ بدعاتو اوفسق وفجورنه ځان ساتل پكښ داخل دی دریم ﴿وَصَدَّقَ بِالْحُسْنٰى﴾ دا لفظ شامل دے كلمهٗ دَتوحید اوجنت او ثواب او اجر اوټول احكام او اخبار شرعیه ته ټول پكښ داخل دی۔

[٧] تیسیرهٗ دَ اللّٰه تعالٰی دَطرف نه توفیق دَعلم اوعمل ورکول دی ﴿لِلْيُسْرٰى﴾ یسرٰی، نه مراد خصلتونه دَ خیردی یا لاردَ جنت ده اوپه حدیث صحیح كښ راغلی دی (دَ هغے یوجمله دا ده) چه څوك دَاهل سعادت نه وی نوهغه ته عمل دَسعادت اسان كړیشی۔

[٩،٨] دلته ئے هم درے اسباب ذكر كړی دی چه مخكښو دریو سره مقابل دی اول ﴿بَخِلَ﴾ یعنی هیڅ حق نه اداكوی كه حق دَ اللّٰه تعالٰی وی اوكه دَ بندګانو وی۔اوبخل په نفس سره بخل په بدن سره بخل په مال سره دے ټولوته عام دے دویم ﴿وَاسْتَغْنٰى﴾ دَ اللّٰه تعالٰی او دَ انسانانونه ئے ځان بے پرواه كړے وی او دا بے پرواهی سبب دے دَپاره دَ ارتكاب دَ محرماتو اومشتبهاتو دَ دے وجے نه په مقابل دَتقوٰی كښ ذكرشو دریم ﴿كَذَّبَ بِالْحُسْنٰى﴾ دَ توحیداو دَ طریقه شرعیه او دَ اعمالو دَ خیرنه انكار كوی۔

[١٠] دلته تیسیرنه مراد اسانول دَ اسبابو دَ شر او منع كول دَاسبابودَ خیرنه دی اودے ته ځندلان وئیلے كیږی ﴿لِلْعُسْرٰى﴾ نه مراد هرهغه خصلت او لارچه عاقبت ئے سخت دے او رسوۍكے دے جهنم ته اودارنګ په حدیث صحیح كښ وارد دی چه څوك دَ اهلِ شقاء نه وی نو اسانولے شی هغه ته عمل دَ شقاء۔

[١١] ﴿تَرَدّٰى﴾ تَرَدّٰی په اصل كښ دَبره نه را رغستلوته وئیلے كیږی او مراد ترینه هلاكت دے په عذاب دنیوی یا عذاب اخروی سره۔

[١٣،١٢] دا علت دے دَ ماقبل مضمون دَپاره یعنی تیرشوے تفصیل دَ اللّٰه تعالٰی دَ طرف نه بیان دَ خیر اوشر دے اوپه دے كښ ترغیب دے قرآن ته ځكه دا بیان دَ اللّٰه تعالٰی په قرآن كښ دے ﴿وَاِنَّ لَنَا لَلْاٰخِرَةَ وَالْاُوْلٰى﴾ اخرت نه مراد الدار الاخرة یعنی جنت دے نو مطلب دا دے چه جنت ورکول او دنیا ورکول دواړه دَ اللّٰه تعالٰی

وَسَيُجَنَّبُهَا الْاَتْقَى ﴿۱۷﴾ الَّذِيْ يُؤْتِيْ مَالَهٗ يَتَزَكّٰى ﴿۱۸﴾ وَمَا لِاَحَدٍ عِنْدَهٗ مِنْ نِّعْمَةٍ تُجْزٰٓى ﴿۱۹﴾ اِلَّا ابْتِغَآءَ وَجْهِ رَبِّهِ الْاَعْلٰى ﴿۲۰﴾ وَلَسَوْفَ يَرْضٰى ﴿۲۱﴾

او خامخا بچ به اوساتلے شی دَ هغے نه ډیر یرے والا (متقی) (۱۷) هغه کس چه ورکوی مال خپل دَ ځان پاك کړی (۱۸) او نیشته هیڅا لره دَ هغه سره څه احسان چه بدله ئیے ورکړی (۱۹) مګر لټول دَ مخ دَ رب خپل چه اوچت دے (۲۰) او زرده چه خوشحاله به شی (۲۱)

په اختیارکښ دی نوطلب دَ دے دَ اللّٰه تعالیٰ نه پکار دے یامراد دَ اخرت نه ورځ دَ اخرت ده یعنی اخرت او دنیا دَ دواړو تصرف او اختیار دَ اللّٰه تعالیٰ سره دے نو هدایت هم دَهغه په اختیارکښ دے۔

[۱۴، ۱۵، ۱۶] دا تخویف دے دویم فریق لره ﴿اَلْاَشْقَى﴾ اسم تفضیل دلالت کوی چه مراد دَ دے نه کافر اومشرك دے اودَ دے نه لاندے بیا شقی دے چه هغه مؤمن ګنهګار دے ﴿كَذَّبَ وَتَوَلّٰى﴾ تکذیب په زړه سره دے او تولّٰی په عمل کولو سره ده ﴿نَارًا تَلَظّٰى﴾ یوخاص منزل دے دَ منازلو دَاورنه هغه خاص دے په الاشقی (کافر) پورے۔ او مؤمن ګنهګارچه اللّٰه تعالیٰ اوغواړی نو دَ جهنم په بل منزل کښ به ئیے داخل کړی۔

[۱۷، ۱۸] په دے کښ بشارت دے په پنځه اوصافو سره۔ په دے دواړه ایاتونو کښ ئیے دوه اوصاف ذکر کړی دی۔

[۱۹، ۲۰، ۲۱] په دے کښ نور درے اوصاف ذکرکوی ﴿وَمَا لِاَحَدٍ عِنْدَهٗ﴾ یعنی بعضِ خلق چه تصدّق په چاباندے دَ دے وجے کوی چه هغه ورسره مخکښ احسان کړے وی نو دَ هغه بدل خلاصوی لکه چه په دے دورکښ اکثر دعوتونه دَ طعام په بدل باندے بنادی (استغفراللّٰه) نودغه اتقیٰ دَ دے وصف نه بچ دے بلکه بے بدله تصدق کوی ﴿اِلَّا ابْتِغَآءَ وَجْهِ رَبِّهِ الْاَعْلٰى﴾ او وجه په خپله معنی باندے دے بغیرد تشبیه اوتمثیل نه او دارنګ په بندګانوکښ په عرف کښ وئیلے شی چه داکار ما دَ فلانی په مخ باندے او کړو یعنی دَ هغه لحاظ مِ اوکړو یا دلته مضاف محذوف دے یعنی روية وجه دَدیدار دَ مخ دَ طلب کولو دَپاره ﴿وَلَسَوْفَ يَرْضٰى﴾ دا اجمالی بشارت دے دنیوی او اخروی بے شماره نعمتونوته شامل دے۔

سُوْرَةُ الضُّحٰى (۹۳) مَكِّيَّةٌ (۱۱) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۱۱ رُكُوْعَاتُهَا ۱

وَالضُّحٰى ۝١ وَالَّيْلِ اِذَا سَجٰى ۝٢ مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلٰى ۝٣ وَلَلْاٰخِرَةُ خَيْرٌ لَّكَ مِنَ الْاُوْلٰى ۝٤ وَلَسَوْفَ

قسم دے په وخت دَ ساخت باندے (۱) او په شپه باندے کله چه اوغوړیږی (۲) نه دے پریخودلے تا لره رب ستا اونه ئے دُشمنی کړیده (۳) او خامخا اخرت غوره دے تا لره دَ دُینا نه (٤) او خامخا زر ده

سورة الضحٰی

ربط: دَ دے سورة دَ مخکښ سره په څو وجوهو سره دے اوله وجه دا ده چه په مخکښ سورة کښ تسلی وه دَامتی دَپاره نو په دے سورة کښ تسلّی ده نبی ﷺ دَپاره ـ

دعویٰ دَ سورة: تسلّی ده رسول اللّٰه ﷺ ته په درے څیزونو سره په (۵،٤،۳) کښ او دفع دَ اعتراض دَمشرکانو ده او دَ اللّٰه تعالیٰ یونوم (رب) ئے ذکرکړے دے او پنځه صفات فعلیه ثبوتیه اودوه سلبیه ئے ذکر کړیدی۔

خلاصه دَسورة دا ده : دوه شهادتونه دی په (۲،۱) کښ بیا دعویٰ دَ سورة ده په درے عنواناتو سره په (۵،٤،۳) کښ بیا ذکرد حالاتودے (چه انعامات الٰهیه دی)مخکښ دَ نبوت نه په (۸،۷،٦) کښ او بیادرے اداب حسنه ذکردی په(۱۱،۱۰،۹) کښ او دا اداب دَپاره دَ هردعوت کوؤنکی دی۔

فائِده: دَ دے سورة نه ترسورة عادیات پورے په اوو سورتونوکښ ذکر دَ څلورو اصولو دَایمان دے۔ صدق دَ رسول ﷺ په سورة الضحیٰ اوانشراح او سورة بیّنه کښ اوتوحید په سورة التین کښ اوعظمت دَ قرآن په سورة علق او سورة قدرکښ او اثبات دَ قیامت په سورة زلزال کښ دے۔

تفسیر

[۲،۱] په دے کښ دوه قسمونه دی اول په وخت دَ ضحیٰ باندے چه ساخت وخت دے یاترینه مراد تپوله ورځ ده او دویم قسم په شپه باندے اوپه سورة کښ تسلی ده رسول ﷺ ته لکه چه بخاریؒ مسلمؒ او احمدؒ حدیث راوړے دے چه جبرئیل علیه السلام څه ورځے حِصار شو دَ راتللونه نو مشرکانو اوئیل چه محمد ﷺ لره خپل رب پریخودلو (نو هغه ډیرخفه وؤ) نو دا سورة نازل شو نوضُحیٰ هم دَ ورځے دَ پوره رنړا وخت دے او اذا سجیٰ دَ شپے دَ پوره تیرے وخت ته اشاره ده او دَ دے دواړو په مینځ کښ پوره مقابله ده اودا دواړه دَ برکاتو او دَ فائِدو اوقات دی دَ هریو جدا جدا فائِدے دی۔

[۳] دا جواب قسم دے اوپه دے کښ تسلی ده رسول اللّٰه ﷺ ته ﴿وَدَّعَكَ﴾ تودیع رخصت ورکول اوپریخودل دی چه مستلزم وی جدایئی لره که دَ دوست سره وی اوکه دشمن سره وی ﴿وَمَاقَلٰى﴾ داخاص دے په دشمن پورے یعنی په هیڅ پریخودلوسره ئے نه دے پریخے نه داسے لکه دوست چه دوست نه جدا کیږی اونه داسے لکه دُشمن چه دُشمن پریږدی۔

فائِده: دا دَ هر داعی دَ حق دَپاره تسلّی ده یعنی کله به غلبه وی په دشمن اوکله به کمزوری وی،کله به بیماری وی اوکله به روغتیا وی، کله به مصیبت، تکلیف اوفقیری وی اوکله به راحت خوشحالی مالداری وی دا حالات بدلیدل دلیل دَ بدبختی نه دی۔

يُعْطِيكَ رَبُّكَ فَتَرْضَىٰ ﴿٥﴾ أَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيمًا فَآوَىٰ ﴿٦﴾ وَوَجَدَكَ ضَالًّا فَهَدَىٰ ﴿٧﴾ وَوَجَدَكَ عَائِلًا فَأَغْنَىٰ ﴿٨﴾
فَأَمَّا الْيَتِيمَ فَلَا تَقْهَرْ ﴿٩﴾ وَأَمَّا السَّائِلَ فَلَا تَنْهَرْ ﴿١٠﴾ وَأَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ ﴿١١﴾

چه دربه کړی تاته رب ستا نو خوشحاله به شے (۵) ایا ته ئے نه ئے موندلے یتیم نو ځائے ئے درکړو (۶) او اومندلے ئے ته نا خبره نو پوهه ئے کړے (۷) او اومندلے ئے ته محتاج نو بے پروائے کړے (۸) نو هر چه یتیم دے نو قهر (غصّه) ورته مکوه (۹) او هر چه سوال کوؤنکے دے نو رټنه ورته مکوه (۱۰) او هر چه نعمت دے دَ رب ستا نو بښکاره کوه ئے (۱۱)

[٤] دا دویم جواب قسم او تسلی ده یعنی اخرت او دنیا دواړو کښ ستا دَپاره عزت او شرافت شته دے لیکن دَ اخرت اکرامات او انعامات دَ دُنیا دَ هغے نه غوره او ډیر اوهمیشه دی۔

[۵] دا دریم جوابِ قسم اوتسلّی ده ﴿يُعْطِيكَ رَبُّكَ﴾ مراد ترینه اعطاء دَ نعمتونو ده په اخرت کښ چه په هغے کښ مقام شفاعت هم داخل دے چه دَ هغے په سبب به ټول امتیان (اجابت والا) جنت ته داخل شی نونبی ﷺ به پوره رضاشی یا مراد دَ دے نه اعطاء دَ نعمتونو ده په دنیاکښ یعنی فتح، نصرت، دَ ډیرو خلقو په اسلام کښ داخلیدل او وعدے دَ خزانو دَ کسریٰ او قیصر اوغلبه دَدین اسلام په ټول دینونو باندے۔

[٦] په دے کښ نعمتونه په نبی باندے قبل النبوة ذکرکوی دَتاکید دَ تسلیٔ دپاره یعنی اللّٰه تعالیٰ په تاباندے قبل دَ نبوت نه داسے نعمتونه کړیدی چه دَ نبوت دَپاره ئے تیارکړے ئے نو دا دلیل دے چه تاهسے نه پریږدی اونه درسره دُشمنی کوی ﴿يَتِيمًا﴾ یتیم هغه څوك دے چه پلار ئے وفات وی اوبالغ نه وی اودَ رسول ﷺ پلارد هغه دَپیدائش نه وړاندے وفات شویوؤ په اکثرو روایاتوسره اوبعضو وئیلی دی چه دَهغه دَ ولادت نه روستو وفات شویوؤ ﴿فَآوَىٰ﴾ اول تربیت ئے نیکه (عبدالمطلب) اوکړو بیا پوره تربیت اوحفاظت ئے ترهٔ ابوطالب اوکړو اګرچه ایمان ئے وزباندے راونړو بیا دَ حفاظت دَپاره صحابه کرام پیداشول اوبیا مدینے والا (اوس اوخزرج) پیدا شول دا ټول په فَاٰوٰی کښ داخل دی۔

[۷] دا بل نعمت دے ﴿ضَالًّا﴾ ضال ناخبره دَتفصیلاتو دَ ایمان او دَ شرائعونه لکه په سورة شوریٰ (۵۲) کښ۔

فائده: مفسرخازن وئیلی دی حاصل ئے دا دے چه هغه قول دَ بعضِ خلقو ته التفات نشی کیدے چه دَ ضال معنیٰ داده چه ګمراه وو دَ خپل قوم په دین باندے ځکه چه زمونږ نبی ﷺ اوټول انبیاء علیهم السلام پیداشویدی اولوئے شویدی په توحید او په ایمان باندے مخکښ دَ نبوت نه او معصوم دی مخکښ دَ نبوت نه اودَ جهل نه په صفاتو دَ اللّٰه تعالیٰ باندے او دَ توحید باندے۔

[۸] دادریم نعمت دے ﴿عَائِلًا﴾ ډیرعیال والادے اومراد ترینه محتاج دے او احتیاج حقیقی او معنوی دواړوته شامل دے یعنی فقیراوبے ماله وے نومستغنی ئے کړے په سبب دَ نکاح دَ خدیجه رضی اللّٰه عنها سره اوبیا روستو دَ نبوت نه په غنیمتونو سره اومعنوی احتیاج دا دے چه محتاج وے علم ته اودلیلونوته نو مستغنی ئے کړے په سبب دَ وحی سره اودارنګ استغناء دَ زړه (قناعت او صبر) ئے درکړه۔

فائده: دا درے منازل دَ نبوت دَ نبی ﷺ نه وړاندے دَ دے دَپاره ورکړے شول چه دَ نبوت ذمه وارئے ادا کولو ته تیارشی او دا درے دَ هرداعی حق دَپاره پکار دی یوځائے دَ تربیت دویم علم دَ وحی دریم استغناء دَ نفس۔

سُوْرَةُ الٓمْ نَشْرَحْ (۹۴) مَكِّيَّةٌ (۱۲) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۸ رُكُوْعَاتُهَا ۱

اَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ صَدْرَكَ ۝۱ وَوَضَعْنَا عَنْكَ وِزْرَكَ ۝۲ الَّذِيْٓ اَنْقَضَ ظَهْرَكَ ۝۳ وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ ۝۴ فَاِنَّ

ایا نه ده پرانستلے مونږ تا لره سینه ستا (۱) او سپك كړيدے مونږ ستانه بوج ستا (۲) هغه چه درنه كړيده ملا ستا (۳) او پورته كړيدے مونږ تا لره ذكر (يادول) ستا (٤) يقيناً

(بقيه تفسير دَ سورة الضحىٰ)

[۹] دا اوله تفريع ده په اول احسان باندے۔ اودا خلاف دے دَ حال دَ جاهليت نه چه هغوى به په يتيمانو ظلم كوؤ او دَهغوى حقونه ئے ضائع كول۔

[۱۰] دا تفريع ده په دويم احسان باندے۔اوسائل عام دے كه سوال دَ دنيا كوى اوكه دَ دين كوى او خازن وئيلى دى چه طالب دَ علم پكښ داخل دے۔

[۱۱] دا تفريع ده په دريم احسان باندے يعنى ته ئے مستغنى كړے او مستغنى له پكار دى چه دَ نعمت پوره شكر اداكړى ﴿بِنِعْمَةِ رَبِّكَ﴾ نعمت عام دے دنيوى وى اوكه دينى وى وحى او قرآن اوعلم دَ دين پكښ داخل دى ﴿فَحَدِّثْ﴾ تحديث دَنعمت دَ هغے شكر اداكول او دَ منعم ثناء كول دى۔

فائده: دا درے اخلاق دَهر داعى الى الحق دَپاره ضرورى دى دَپاره دَكاميابئے دَدعوت كولو۔

سورة الانشراح

اونورنومونه ئے دا دى سورة الم نشرح او سورة الشرح۔

ربط: دَ دے سورة دَ سورة الضحىٰ سره په څو وجوسره دے اوله وجه دا ده چه په هغه سورة كښ يوقسم تسلّى وه نبى ﷺ ته اوپه دے سورة كښ بل قسم تسلّى ده هغه ته۔ دويمه وجه په هغه سورة كښ تذكير وؤ په درے انعاماتو سره مخكښ دَنبوت نه او په دے سورة كښ تذكير دے په درے نعمتونو سره روستو دَ نبوت نه۔

دعوىٰ دَ دے سورة: تسلّى ده نبى ﷺ ته په (٦،٥) كښ او وعده ده دَ يُسر روستو دَ عُسرنه په دليل دَ درے نعمتونو سره او تيزى وركول دى په (٨،٧) كښ په دعوت باندے او دَ اللّٰه تعالىٰ يو اسم ذكردے (رب) اودرے صفات فعليه دى۔

خلاصه دَ سورة دا ده: چه اول يا داشت دَدرے نعمتونو دے بيا تسلى ده په يُسر سره بيا تيزى ده په دعوت باندے په مينه دَ اللّٰه تعالىٰ سره۔

فائده: په دے دواړه سورتونو كښ لوئے مقصد اثبات دَ صدق دَ رسول اللّٰه ﷺ دے۔

تفسير

[۱] دا اول انعام ذكركوى او دا انعام دَموسىٰ عليه السلام په دعا كښ ذكر دے سورة طٰهٰ (۲۵) كښ، او دا سبب دَ هدايت دے لكه په سورة انعام (۱۲۵) كښ اوسبب دَ نوردے لكه په سورة زمر(۲۲) كښ اومراد دَ شرح صدر نه ضرورى علمونه اومعارف وركول دى اوهرقسم شبهات اوشكونه دَ زړه نه زائل كول دى۔

مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا ۝٥ إِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا ۝٦ فَإِذَا فَرَغْتَ فَانْصَبْ ۝٧ وَإِلَىٰ رَبِّكَ فَارْغَبْ ۝٨

دَ سختئی سره اسانتیا وی (٥) یقیناً دَ سختئی سره اسانتیا وی (٦) نو کله چه اوزګار (فارغ) ئیے نو ځان ستړے کړه (٧) او خاص خپل رب ته رغبت کوه (٨)

[٢] دا دویم انعام ذکرکوی یعنی دَنبوت ورکولونه روستو دَ نبوت کار اسانول ﴿وَوَضَعْنَا عَنْكَ وِزْرَكَ﴾ وِزَر بوج ته وئیلے شی او وضع دَ وزر بوج سپکول اوبوج لرے کولوته وئیلے شی او وزرنه مراد نبوت دے ځکه دَ وحی بوج دومره زیات وؤ چه په نبی ﷺ په ابتداء کښ داسے هیبت راغلے وؤچه نزدے وه چه ځان ئیے دَ غږدَ سرنه راغورځولے وے لیکن جبرئیل علیه السلام منع کړو اوپه سخت ژمی کښ به په هغه باندے خوَله راتلله لیکن دا بوج اللّٰه تعالیٰ اسان کړو تردے پورے چه هغه ښهٔ په اسانه طریقه سره وحی ایزده کوله او په رسولو دَ وحی کښ هم ډیر مصیبتونه تکالیف ووَ وجے دَ مخالفت دَقوم نه لیکن هغه هم اللّٰه تعالیٰ اسان کړل۔

[٣] ﴿أَنْقَضَ﴾ نقیض هغه اوازته وئیلے شی چه دَ وجے دَ دروندوالی دَبوج نه وی مراد ترے دلته دروندوالے دے۔

[٤] دادریم انعام دے رفع دَ ذکر دَ نبی ﷺ په ډیرو طریقو سره ده اول ذکر دَ هغه په کلمه دَتشهد کښ دے اوپه اذان کښ او په خطباتوکښ اودویم په منبرونوباندے په ورځ دَ جمعے او اخترونو او وعظونو کښ۔دریم ذکردَ هغه په مخکښو کتابونو کښ۔ ځلورم میثاق اخستل دَ مخکښوانبیاء علیهم السلام نه په باره دَ دهٔ کښ۔ پنځم ذکردَ دهٔ په ملائکوکښ۔ شپږم ذکردَ دهٔ په مقام دَ اطاعت دَ اللّٰه تعالیٰ کښ (اطیعوا اللّٰه واطیعوا الرسول) اوپه مقام دَ رضاکښ (واللّٰه ورسوله احق ان یرضوه)۔ اووم په اوچتو اوشریف اخلاقوسره متصف کیدل۔

[٥،٦] دا دعویٰ دَ سورۃ ده (تسلی) تفریع ده په مخکښ درے نعمتونو باندے یعنی دغه نعمتونه سبب دے دَ یُسر (اسانتیا) په دنیا اواخرت کښ ﴿الْعُسْرِ﴾ صحیح دا ده چه په اوله جمله کښ عسر دنیوی یعنی فقر اوغریبی مراد دے چه په هغے پسے ډیر غنیمتونه اوفتحے دَ ملکونو راغلے اواللّٰه تعالیٰ په نبی ﷺ او صحابو باندے دنیوی وسعتونه راوستل ۔ اوپه دویمه جمله کښ دَ عسر نه مراد عسرِ دینی دے یعنی دینی تکالیف او مصائب په اول وخت کښ ډیروؤ بیا دَ اللّٰه تعالیٰ دَ طرف نه فتح او نصرت راغے اوخلق به ډلے ډلے په دین کښ داخلیدل او دارنګ په دے پسے اخروی یُسر دے (جنتونه)۔

[٧،٨] روستودَ ذکردَ انعاماتونه ترغیب دے دَ هغے شکرکولوته اودَ هغه شکردوه طریقے ئیے ذکرکړی دی اوله طریقه ﴿فَإِذَا فَرَغْتَ فَانْصَبْ﴾ پدے جمله کښ مفسرینو ډیر اقوال ذکرکړیدی۔ غوره قول دا دے هرکله چه فارغ شے دَ دنیا دَ ضروری کارونونه نو ځان ستړے کړه دَ دین په کارکښ چه عبادت او دعوت کول دی۔

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سُوْرَةُ التِّيْنِ (۹۵) مَكِّيَّةٌ (۲۸) | اٰيَاتُهَا ۸ رُكُوْعَاتُهَا ۱

وَالتِّيْنِ وَالزَّيْتُوْنِ ۝۱ وَطُوْرِ سِيْنِيْنَ ۝۲ وَهٰذَا الْبَلَدِ الْاَمِيْنِ ۝۳ لَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ فِيْٓ
اَحْسَنِ تَقْوِيْمٍ ۝۴ ثُمَّ رَدَدْنٰهُ اَسْفَلَ سٰفِلِيْنَ ۝۵ اِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فَلَهُمْ اَجْرٌ

قسم دے په اینځر او په خونه باندے (۱) او په طور تلے شین (یارنږاوالا) باندے (۲) او (قسم دے) په دے ښار امن والا باندے (۳) یقیناً پیدا کړیدے مونږ انسان په ډیر خائسته اندازه کښ (چه فطرت دَ توحید دے) (٤) بیا ورګرځولے دے مونږه دے کوز دَ کوزو نه (٥) مګر هغه کسان چه ایمان ئیے راوړے دے اوعملونه ئیے کړیدی دَ سنت برابر نو دوی لره ثواب دے

سورة التين

اوبل نوم ئیے والتین دے۔

ربط: دَدے سورة دَ ماقبل سره په ډیرو وجو سره دے اوله وجه دا ده چه محکښ سورة کښ تیزی ورکول وؤ په دعوت باندے نو په دے سورة کښ مقصد دَ دعوت ذکرکوی چه هغه توحید دے۔دویمه وجه دا ده چه په هغه سورة کښ شان دَ نبیﷺ ذکر وؤ او په دے سورة کښ شان دَ عامو انسانانو ذکر دے۔

دعویٰ دَ سورة: اثبات دَتوحید دے چه په دے باندے انسان فطرةً پیدا شویدے په (٨،٤) کښ او اثبات دَ ورځ دَ جزا تفریعاً ذکرکوی په (۷) کښ۔ اویواسم دَ اللّٰه تعالیٰ او دوه صفاتِ فعلیه پکښ ذکردی۔

خلاصه دَ سورة دا ده :چه اول ئیے څلورشواهد ذکرکړی دی بیا دعویٰ دَ سورة ده تر(٤) پورے بیا تقسیم دَ انسان دوه قسمونوته یولره تخویف په (٥) کښ اوبل لره بشارت دے په (٦)کښ او بیا اثبات دَ قیامت پطور دَ تفریع سره په ماقبل باندے په (۷) کښ بیا تصریح ده په دعویٰ دَتوحید باندے په (۸) کښ۔

تفسیر

[۱] ﴿وَالتِّيْنِ وَالزَّيْتُوْنِ﴾ دا دوه قسمونه په طریقه دَ شهادت دی۔

[۲] دا دریم قسم دے ﴿طُوْرِ﴾ هرهغه غرته وئیلے شی چه شین وی، اونوم دے دَ هغه غرچه دَموسیٰعليه السلام مهبط دَ وحی وؤ او﴿سِيْنِيْنَ﴾ هم هغه غرته وئیلے شی چه په هغے کښ میوه دارے اونے وی یا سینین نوم دَ هغه مکان دے چه په هغے کښ طور (غر) موجود دے ۔دلته هم مراد هغه غر دے چه موسیٰعليه السلام ته په هغے کښ وحی شروع شوے وه او میقاتونه ئیے دَ هغے په خواکښ کیدل ځکه چه هغه غر دَ ډیرو منافعو نه ډک دے یا موسیٰعليه السلام مراد دے په طریقه دَ ذکر دَ مکان اومراد ترینه مکین۔

[۳] دا څلورم قسم دے او مراد دَ دے نه مکه مکرمه ده چه په هغے کښ ابراهیمعليه السلام کعبه جوړه کړله او دُعاء ئیے غوختلے ده دَ هغے دَامن دپاره او په هغه ښار کښ خاتم النبینﷺ ته وحی شروع شویده نودلته مراد نفسِ ښار دَ مکے مکرّمے دے یا ابراهیمعليه السلام یا محمدﷺ مراد دے په طریقه دَ ذکر دَ مکان اومراد ترینه مکین۔

[٤] دا جواب قسم دے ﴿الْاِنْسَانَ﴾ دَ دے نه مراد هرانسان دے ﴿فِيْٓ اَحْسَنِ تَقْوِيْمٍ﴾ تقویم په معنیٰ دَ قوام سره دے جوړخ مراد دے او جوړخ ظاهری دَ بدن او جوړخ باطنی روحانی دواړه احسن دی جوړخ باطنی دا

غَيْرُ مَمْنُوْنٍ ۝٦ فَمَا يُكَذِّبُكَ بَعْدُ بِالدِّيْنِ ۝٧ اَلَيْسَ اللّٰهُ بِاَحْكَمِ الْحٰكِمِيْنَ ۝٨ ع

بے انتها (٦) نو څه څیز دروغژن کړځولے شی تا روستو دَ دینه دَ جزا په باره کښ (٧) ایانه دے الله تعالیٰ پخه فیصله کوؤنکے دَ فیصلے کوؤنکو نه (٨)

دے چه هرانسان په فطرة دَ توحید پیداکړے شوے دے لکه په سورة روم (٣٠) کښ ذکر دی او حدیث صحیح کښ وارد دی چه كُلُّ مَوْلُوْدٍ يُوْلَدُ عَلَى الْفِطْرَةِ۔ (هربچے پیدا کیدلے شی په توحید باندے) اوجوړښ بدنی دادے چه سیدها قد والا لاس اوخپے ئے جدا جدا دی۔ په لاسو باندے خوراك کوی خائسته صورت ئے دے۔

فائِده: مناسبت په مینځ دَ قَسمونو اوجواب قسم کښ دا دے په اعتبار دَ اول توجیه سره (چه تین زیتون طور اومکه مرادشی) چه په دغه څیزونو کښ څه رنګ بے شماره فائِدے الله تعالیٰ پیداکړیدی او دَ الله تعالیٰ دَ قدرت نمونے دی لیکن روستو خلق دوه قسمه دی څوك دَدے نه فائِدے اخلی او دَ الله تعالیٰ دَ قدرت نمونے ئے ګټړی او څوك ئے ضائع اوعبث ګڼړی نو دارنګ انسان لره الله تعالیٰ دَتوحید په عقیده کښ پیدا کړے لیکن څوك په دے توحید باندے باقی پاتے شی اوخوك ترینه واوړی یهودیت، نصرانیت، مجوسیت وغیره ته اودارنګ دا انسان دَ الله تعالیٰ دَ قدرتونو دَپاره یوعظیمه نمونه ده لکه حکماؤ وئیلی دی چه انسان عالم صغیردے۔ اوپه اعتبار دَ دویمے توجیه سره (چه دَ دے نه پنځه انبیاء مرادشی) یعنی نوح عليه السلام عیسیٰ عليه السلام موسیٰ عليه السلام ابراهیم عليه السلام اومحمد ﷺ چه دَتوحید دَمسئلے دَپاره ئے په دغه مکاناتو کښ څومره تکالیف تیرکړی دی اودَ توحید دعوت ئے کړے دے، دا شهادت دے په دے باندے چه انسان په اصل کښ په توحید باندے پیدا دے لیکن دَنورو عوارضو دَوجے نه بعض انسانان توحید پریږدی۔

[٥] هرکله چه دَ الْاِنْسَانَ نه مراد ټول (جنس) انسانان وؤنواوس په هغوی کښ تقسیم کوی یوقسم هغه دی چه هغوی توحید پریخودلو اوپه کفر اوشرك کښ اخته شول(دین فطری ئے بدل کړو) نوپه دے ایت کښ هغوی لره تخویف دے ﴿اَسْفَلَ سَافِلِيْنَ﴾ په دے کښ دَمفسرینو دوه قولونه دی اول دا چه مراد دَ دے نه ارزل عمر دے چه روستودَ علم او عقل نه بیا واپس جاهل ناپوهه شی۔دویم قول دادے چه مراد دَدے نه اوردَ جهنم دے او دا قول غوره دے۔

[٦] په دے کښ دویم قسم انسان ذکرکوی چه هغوی په دین فطری باندے پاخه دی نوهغوی لره بشارت دے او دَ هغوی صفت ئے ایمان اوعمل صالح ذکرکړے دے۔

[٧] دا تفریع ده په مخکښ ذکر دَ قدرتونودَ الله تعالیٰ باندے دپاره دَ اثبات دَ ورځ دَ جزا اودَ دے وجے ئے (فا) راوړے ده یعنی هغه الله تعالیٰ چه دَ هغه دَ قدرت مثالونه په تین، زیتون، طور، بلد امین اوانسان اوپه هغوی کښ په تقسیم کولوکښ ښکاره دی نومعلومه شوه چه هغه الله تعالیٰ قادر دے په بعث بعدالموت اوپه جزا ورکولو باندے، نوځه دلیل دَتکذیب کیدے شی دَپاره دَ مکذبینو۔

[٨] داتصریح ده په دعویٰ دَ توحید چه احسنِ تقویم کښ اشاره ذکروه اودا رد دَ شرك فی التصرف والحکم دے ځکه مراد دَحکم نه عام دے حکم تکوینی یعنی تصرفات کونیه اوحکم تشریعی دواړوته عام دے اودا صفت دَ الله تعالیٰ په سورة هود (٢٥) کښ ذکرشویدے اواحکم تفضیل کښ اشاره ده چه هر تصرف

سورۃ العلق مکیۃ (۹۶) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | آیاتها ۱۹ رکوعاتها ۱

اِقْرَاْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِیْ خَلَقَ ۚ﴿۱﴾ خَلَقَ الْاِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ ۚ﴿۲﴾ اِقْرَاْ وَرَبُّكَ الْاَكْرَمُ ۙ﴿۳﴾ الَّذِیْ عَلَّمَ بِالْقَلَمِ ۙ﴿۴﴾ عَلَّمَ الْاِنْسَانَ مَا لَمْ یَعْلَمْ ؕ﴿۵﴾ كَلَّاۤ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَیَطْغٰۤی ۙ﴿۶﴾ اَنْ رَّاٰهُ اسْتَغْنٰی ؕ﴿۷﴾ اِنَّ اِلٰی رَبِّكَ الرُّجْعٰی ؕ﴿۸﴾

اولوله په مدد د نوم د رب ستا هغه ذات چه پیدائش ئے کړیدے (عام) (۱) پیدا کړیدے انسان د ټکړے د وینے نه (۲) لوله همیشه او رب ستا ډیر عزت والا دے (۳) هغه ذات چه تعلیم ئے ورکړیدے په قلم سره (٤) تعلیم ئے ورکړیدے انسان ته د هغه څیز چه دے پرے نه پوهیدو (٥) یقیناً دا ده بیشکه چه (بعضِ) انسان خامخا سرکشی کوی (٦) د دے وجے نه چه ځان مالدار وینی (۷) یقیناً طرف د رب ستا ته ګرځیدل دی (۸)

(بقیه تفسیر د سورة التین) او حکم شرعی د اللّٰه تعالیٰ مضبوط دے څوك ئے مقابله نشی کولے اوپه هغے باندے دَهیڅا اعتراض او اپیل نه چلیږی۔ اوپه حدیث د ترمذی کښ د ابوهریره ﷺ نه مرفوعاً نقل دی چه چاوالتین والزیتون اولوستلواوبیائیے الیس اللّٰه باحکم الحاکمین اولوستلونو ورپسے دِ اووائي بلی وانا علی ذالك من الشاهدین۔

سورة العلق

اوبل نوم ئے سورة اِقرء دے۔

ربط: د دے سورة د ماقبل سره په څو وجوهو سره دے اوله وجه دا ده چه په محکمیں سورة کښ توحید ذکرشونوپه دے سورة کښ د علمِ دَتوحید ډیاره امرکوی په قراءة د قرآن سره۔ دویمه وجه دا ده چه په هغه سورة کښ صورت د انسان ذکرشونوپه دے سورة کښ مادہ د پیدائش د انسان ذکرکوی۔

دعویٰ د دے سورة: امر دے په قراءة د قرآن سره دوه کرته په (۱) او(۳) کښ اوپه عبادت د رحمٰن سره ډیاره د قربت په (۱۹) کښ او درے اسماء حُسنیٰ ذکردی۔ اللّٰه، رب، اکرم، اوصفاتِ فعلیه پکښ اووه ذکردی۔

خلاصه د دے سورة دا ده: اول امردے په قراءة د قرآن سره سرهٔ د ادب نه اوعلت د هغے ئے خَلق ذکرکړے (۲،۱) کښ بیا دویم کرت امرپه قرائت سره دے اوعلت د هغے ئے صفت د اکرمیة اوتعلیم بالقلم ذکرکړیدے په (۳،٤،٥) کښ بیا زجر دے مکذب انسان ته په ذکر د شپږ اوصافِ قبیحه د هغه سره اوتسلی ده داعی د قرآن ته په ذکرد څلورو صفاتِ حسنه سره تر(۱٤)پورے بیا تخویف اخروی دے مکذب ته په(۱۵،۱٦،۱۷) کښ اوترغیب دے قرآن والانه په یونهی او دوه امرونو سره۔

تفسیر

[۱،۲،۳،٤،٥] دا پنځه اِیاتونه دَدے سورة نه د قرآن کریم اول وحی ده چه په غارِ حراکښ نازل کړے شویوؤ ﴿اِقْرَاْ﴾ معلومه شوه چه اوله فریضه په نبی ﷺ باندے قرآن لوستل دی او دَدے تبلیغ دے ﴿بِاسْمِ رَبِّكَ﴾ په دے کښ ادب د قراءة د قرآن ذکردے چه افتتاح د قراءة په بسم اللّٰه الرحمٰن الرحیم سره پکار ده

اَرَءَيْتَ الَّذِيْ يَنْهٰى ۝٩ عَبْدًا اِذَا صَلّٰى ۝١٠ اَرَءَيْتَ اِنْ كَانَ عَلَى الْهُدٰٓى ۝١١ اَوْ اَمَرَ بِالتَّقْوٰى ۝١٢ اَرَءَيْتَ

ایا ته وینے هغه کس چه منع کول کوی (۹) بنده لره کله چه مونځ کوی (۱۰) ایا ته وینے که چرے دے وی په هدایت باندے (۱۱) یا حکم کوی په تقوٰی سره (۱۲) ایا ته وینے

اوهرکله چه قراءة دَ قرآن لوئے اوسخت بوج دے نو دَ دے دَپاره استعانت دَ اللّٰه تعالٰی نه ضروری دے دَ هغه په امداد سره اسانیږی ﴿مِنْ عَلَقٍ﴾ اشاره ده چه نطفه اصل دے او اول انقلابی حالت علقه ده اشاره ده چه قرآن کریم هم دَ انقلاب دَپاره راغلے دے اوپه علقه کښ وصف دَ پیوست والی او دَجوړخ دے نوقرآن هم دَ جوړخ کتاب دے اومحبت اواتصال پیداکوؤنکے دے ﴿اِقْرَاْ وَرَبُّكَ الْاَكْرَمُ﴾ تکرار دَ تاکید دَپاره دے یعنی هروخت قرآن لوله یا مراد دَ اول اِقْرَاْ نه ځان له تلاوت کول دی اودَ دویم اِقْرَاْ نه مراد قرائت دَدعوت اوتبلیغ دے۔ ﴿الْاَكْرَمُ﴾ دا صفت خاص دے په اللّٰه تعالٰی پورے ځکه چه خیر ټول دَ هغه په لاس کښ دے اونعمتونه ټول دَ هغه دَ طرف نه دی۔ او معافے کوؤنکے دے دَجهل دَ بندګانونه اوروستو کوؤنکے دَ عذاب دے دَ مستحقینودَ عذاب نه اوعطیات ورکوؤنکے دے بغیر دَ عِوض نه او پیر اجر اوثواب ورکوؤنکے دے په لوستلو دَ قرآن کریم سره ﴿الَّذِيْ عَلَّمَ بِالْقَلَمِ﴾ او دا عام دے ملائکو او انسانانو اوجناتوته لیکن په انسان باندے په طور دَ خاص احسان سره ذکردے ۔ په خلق (پیدائش) پسے لوئے نعمت علم دے اوعلم دوه قسمه دے یوعلم په قلم سره هغه ئے دلته ذکرکړو اوبل علم په بیان سره هغه ئے په دے جمله کښ ذکرکړو چه ﴿عَلَّمَ الْاِنْسَانَ مَالَمْ يَعْلَمْ﴾۔

[۶،۷] په دے کښ زجر دے مخالفت کوؤنکی دَ نبی ﷺ اودَ قرآن ته ﴿اِسْتَغْنٰى﴾ اشاره ده چه سرمایه داری اکثر سبب دَ طغیان (کفر اوشرك) جوړیږی۔

[۸] په دے کښ تخویف دے مکذب ته اوتسلی ده نبی ﷺ ته۔

[۹،۱۰] دا دَ مکذب نور صفات قبیحه ذکرکوی ﴿عَبْدًا﴾ مراد دَ دے نه نبی ﷺ دے ځکه چه ابوجهل هغه لره دَ مونځ کولونه منع کوؤنونکره دَپاره دَتعظیم ده یعنی لوئے شان والا بنده یا تنکیر دَپاره دَ تعمیم دے یعنی هرڅوك چه هرچاره دَ مونځ اواطاعت نه منع کوی نو هغوی ته شامل دے ﴿اِذَا صَلّٰى﴾ صلاة نه مونځ مراد دے لیکن لوئے رکن په هغے کښ قرآن لوستل دی چه دَ مشرکینو اصل مخالفت دَ قرآن سره وؤ دَ هغے نه به ئے منع کوله اوس هم جاهلان خلق مؤحدینو لره دَ مونځ کولونه په خپلو مساجدو کښ او دَ قرآن وئیلونه منع کوی۔

[۱۱،۱۲] دا صفات دَ داعی دَ قرآن دی اوپه دے کښ وعظ دے منع کوؤنکی ته ﴿عَلَى الْهُدٰٓى اَوْ اَمَرَ بِالتَّقْوٰى﴾ یعنی دا نبی ﷺ دَ دے دواړه حالتونونه خالی نه دے بلکه دواړه صفتونه پکښ جمع شویدی ځکه پخپله په هدایت باندے دے اونورو خلقوته دعوت دَ تقوٰی ورکوی۔

إِنْ كَذَّبَ وَتَوَلّٰى ﴿١٣﴾ اَلَمْ يَعْلَمْ بِاَنَّ اللّٰهَ يَرٰى ﴿١٤﴾ كَلَّا لَئِنْ لَّمْ يَنْتَهِ ۙ لَنَسْفَعًا بِالنَّاصِيَةِ ﴿١٥﴾ نَاصِيَةٍ كَاذِبَةٍ
خَاطِئَةٍ ﴿١٦﴾ فَلْيَدْعُ نَادِيَهٗ ﴿١٧﴾ سَنَدْعُ الزَّبَانِيَةَ ﴿١٨﴾ كَلَّا ط لَا تُطِعْهُ وَاسْجُدْ وَاقْتَرِبْ ﴿١٩﴾

که چرے دے تکذیب کوی او مخ اړوی (۱۳) ایا دے نه پوهیږی چه یقیناً اللّٰه تعالیٰ لیدل کوی (۱٤) هیڅرے داسے نه ده پکار که چرے دے منع نه شو خامخا اوبه نیسو مونږ (دَ دهٔ) ټیکلے دَ سر (۱۵) ټیکلے دروغژن ګنهګار (۱٦) نو اواز دِ اوکړی خپل مجلس والوته (۱۷) زرده اواز به اوکړو مونږ زبانیه ته (۱۸) هیڅرے داسے نه ده پکار مه کوه طاعت د هغه او سجده کوه او ځان نزدے کړه اللّٰه تعالیٰ ته (۱۹)

[۱٤،۱۳]په دے کښ زجردے اونورصفات دَمنکرذکرکوی﴿كَذَّبَ﴾په اعتباردَقول سره او تَوَلّٰی، په اعتباردَعمل سره دے۔

[۱٦،۱۵] په دے کښ تخویف اخروی دے مکذب لره ﴿بِالنَّاصِيَةِ﴾ دَ سرمخکنی ویخته چه په تندی باندے اویزان کړی وی اوهغے ته ټیکلے وئیلے کیږی اودا دَ هغه کسانوپه سرکښ وی چه ویخته ئے دَسنت دَ نبی ﷺ نه په خلاف طریقے سره ساتلی وی اودا طریقه په انګریزی ویختودَ سرکښ وی او اکثر دَ حق دَ مخالفینوسرمایه دارو ویخته هم دغسے وی﴿كَاذِبَةٍ﴾ په اعتباردَ اقوالوسره او﴿خَاطِئَةٍ﴾ په اعتبار دَا فعالو سره۔

[۱۸،۱۷] داهم په تخویف کښ داخل دے یعنی که چرے مکذب دعویٰ کوی چه زما تابعدار ملګری اومجلس والاشته دے چه هغوی ورسره ډله بازی اومددکوی نو اشاره کوی چه هغه دِ هم را اوبلی لیکن هیڅ فائِده نشی ورکولے ﴿نَادِيَهٗ﴾ نادی مجلس دَ اجتماع ته وئیلے شی خوپه دے شرط چه اهل مجلس پکښ موجود وی ﴿الزَّبَانِيَةَ﴾ دَ زبن نه دے او زبن دفعه کول دی په سختئے سره نو دا هغه ملائك دی چه کافرانو لره به دِیکے ورکوی او په زور سره به ئے جهنم ته داخلوی لکه په سورة طور (۱۳)کښ تیرشویدی او دَ دے ملائکو صفات په سورة تحریم (٦) کښ ذکر شویدی۔

[۱۹] ﴿وَاسْجُدْ﴾ په وخت دَ سخت مخالفت دَ منکرینو کښ اللّٰه تعالیٰ ته خاص توجه کول ضروری دی اوهغه په سجده کولوسره دی دلته هم امر دَپاره دَ ثبات او دوام دے اومراد دَ دے نه صرف سجده کول دی دَ دے وجے نه دلته سجدهٔ تلاوت کول ضروری دی یا ذکر دَ سجدے اومرادترینه مونځ دے ﴿وَاقْتَرِبْ﴾ دا مقصد دَ سجود دے ځکه چه حدیث صحیح کښ وارد دی چه اقرب وخت رب تعالیٰ ته وخت دَ سجدے کولو دے اومراد دا دے چه اللّٰه تعالیٰ ته تقرب حاصل کړه په قرآن بیانولوسره اوسجده کولوسره۔

سُوْرَةُ الْقَدْر (۹۷) مَكِّيَّةٌ (۲۵) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۵ رُكُوْعَاتُهَا ۱

اِنَّاۤ اَنْزَلْنٰهُ فِيْ لَيْلَةِ الْقَدْرِ ۝۱ وَمَاۤ اَدْرٰىكَ مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ ۝۲ لَيْلَةُ الْقَدْرِ ۙ خَيْرٌ مِّنْ اَلْفِ شَهْرٍ ۝۳

یقیناً مونږ (شروع کړیدے) نازلول دَ دے (قرآن) په شپه دَ قدر کښ (۱) او څه پوهه درکړیده تاته چه څه ده شپه دَ قدر (۲) شپه دَ قدر غوره ده دَ زرو میاشتو نه (۳)

سورة القدر

دَ دے سورة په باره کښ اختلاف دے چه مدنی دے یامکی دے قرطبی دواړه قولونه ذکرکړیدی لیکن راجح دا ده چه دامکی دے لکه چه ابن حیان او اسفهانی وئیلی دی۔

ربط: دَ دے سورة دَ ماقبل سره په دوه وجوهو سره دے اوله وجه دا ده چه په مخکښ سورة کښ ترغیب وؤ په قرائت دَ قرآن سره نوپه دے سورة کښ دَ هغے علت ذکرکوی یعنی عظمت دَ قرآن کریم۔ دویمه وجه په مخکښ سورة کښ زجروؤ منع کوؤنکوته دَ قرآن نه نو پدے سورة کښ تسلی ده قرآن والوته (اشاره ده چه دَ قرآن والامقام ډیرلوئے دے)۔

دعویٰ دَ سورة: بیان دَ عظمت دَ قرآن کریم دے په ذکر دَ عظمت دَ زمان نزول سره۔ محکه چه عظمت دَ ظرف مستلزم دے عظمت دَ مظروف لره او دارنګ په عکس سره ده۔ او دَ اللّٰه تعالیٰ یو اسم (رب) پکښ ذکردے اویوصفت فعلیه دے۔

خلاصه دَسورة: ذکر دَ نعمت دَ انزالِ قرآن دے په لیلة القدرکښ دَپاره دَ اظهار دَ عظمتِ قرآن۔ او بیا عظمت دَ لیلة القدر ذکرکوی اجمالاً په (۲) کښ اوتفصیلاً په (۳) کښ اونحه دَ عظمت دَ هغے په (۴،۵) کښ ذکرکوی۔

تفسیر

[۱] ﴿اِنَّاۤ اَنْزَلْنٰهُ﴾ هوضمیرپه اتفاق دَ مفسرینوسره قرآن ته راجع دے اګرچه دَ هغے ذکرپه دے سورة کښ تیرشوے نه دے لیکن په نوروسورتونوکښ ذکردے ﴿اَنْزَلْنٰهُ﴾ په دے کښ دوه قولونه دی اول قول دا دے چه ټول قرآن په یوکرت سره دَ لوح محفوظ نه اسمان دَ دنیا (بیت العزة) ته نازل کړے شویدے اوبیازمکے ته په درویش(۲۳)کلونوکښ نازل کړے شویدے، البقاعی په مصاعد النظرج۳ ص(۲۱۷)کښ وئیلی دی چه دا روایت دَ طبرانی دے اوپه دے کښ عمروبن عبدالغفار راوی دے اوهغه ضعیف دے اودارنګ عمران القطان هم دے خوپه هغه کښ اختلاف دے نومعلومه شوه چه دَ دے قول دَپاره صحیح سندنیشته نودویم قول صحیح دے هغه دا دے چه دافعل په معنیٰ دَابتدا سره دے یعنی اِبتَدَأنَا اِنزَاله، (شروع کړے دے مونږ انزال دَ قرآن په دغه شپه کښ)اودا قول دَامام شعبی نه نقل دے﴿لَيْلَةِ الْقَدْرِ﴾قدرپه معنیٰ دَ تقدیرسره دے محکه چه په دے شپه کښ تقدیر دَ څیزونوتریوکال پورے ملائکوته اوسپارلے شی اوهغوی ئے په خپلوکتابونوکښ اولیکی۔ یا قدرپه معنیٰ دَشرف اوعزت سره دے یعنی دَ دے شپے شرافت ډیردے اودارنګ پدے شپه کښ دَ عبادتونوشرافت او اجر ډیر دے۔ اوهرکله چه داشپه په دے امت پورے خاص ده لکه چه دَ صحیح احادیثونه

تَنَزَّلُ الْمَلٰٓئِكَةُ وَالرُّوْحُ فِيْهَا بِاِذْنِ رَبِّهِمْ ۚ مِّنْ كُلِّ اَمْرٍ ۙ﴿۴﴾ سَلٰمٌ ۛ هِيَ حَتّٰى مَطْلَعِ الْفَجْرِ ﴿۵﴾

راکوزیږی ملائك او روح په هغه شپه کښ په حکم د رب خپل د هر کار په باره کښ (٤) شپه د امن (سلامتیا) ده دا ترختلو د صبا پورے ده (٥)

ثابت ده نومعلومه شوه چه د دے دا قدرت اوشرافت د وجے د انزال د قرآن نه دے نو د قرآن عظمتِ شان ثابت شوپه اعتبارد وخت د انزال د هغه سره۔

فائده: محدثینوپه باره د لیلة القدر کښ څه د پاسه څلویښت اقوال ذکرکړی دی لیکن تحقیق څما په نیزباندے دا دے چه لیلة القدرد رمضان په اخری لسو اوتارو (ناتکئے) کښ گرځی راگرځی یعنی کله یوویشتمه اوکله دریشتمه اوکله پنځویشتمه اوکله اوویشتمه اوکله یوکم دیرشمه وی اواکثر اوویشتمه راځی۔

[۲] په دے کښ اشاره ده تعظیم د لیلة القدر ته اجمالاً اوتشویق ورکول دی د هغے موندلوته۔

[۳] په دے کښ عظمت د دغه شپے ذکرکوی په تفصیل سره اودا اول عظمت دے۔ اکثرمفسرینووئیلی دی چه مراد دا دے چه عمل د نیکئے په دے شپه کښ غوره دے (ثواب اوبرکات ئے ډیر دی) په نسبت د دغه عمل کولوپه زرومیاشتوکښ چه د دغه شپے نه علاوه وی او دارنګ کوم خیراوبرکات چه په دے شپه کښ نازلیږی نو د هغے مثال په زرومیاشتو کښ نه موجودیږی اوزرمیاشتے برابردی د درے اتیا کلونو او څلورو میاشتو سره او بعضو مفسرینو وئیلی دی چه اَلفِ شَهْرٍ کنایه ده د ټولے زمانے نه ځکه چه عرب اَلفِ ذکرکوی د غایة د څیزونودپاره لکه په اَن یُعَمَّرَ اَلْفَ سَنَةٍ بقره (۹٦) کښ دی۔

[٤] په دے کښ دویم عظمت ذکرکوی یعنی په دے کښ ډیر ملائك نازلیږی او نزول د ملائکو د پاره د نزول د برکاتو دے ﴿وَالرُّوْحُ﴾ مراد د دے نه جبرئیل علیه السلام دے چه په یوډله د ملائکوکښ راکوزشی اوسلام کوی او دُعاکوی هرهغه بنده ته چه اولاړوی یا ناست وی او اللّٰه تعالیٰ یا دوی ﴿مِنْ كُلِّ اَمْرٍ﴾ مِن په معنیٰ د باسره دے او مراد د امرنه هغه کارونه دی چه تقدیر د هغے د یوکال د پاره ملائکو ته سپارلے شوے وی یا مراد ترینه هرخیر اوبرکت دے۔

[٥] دا دریم عظمت د هغے شپے دے۔

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سُوْرَةُ الْبَيِّنَةِ (۹۸) مَدَنِيَّةٌ (۱۰۰) — اٰيَاتُهَا ۸ رُكُوْعَاتُهَا ۱

لَمْ يَكُنِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ وَالْمُشْرِكِيْنَ مُنْفَكِّيْنَ حَتّٰى تَاْتِيَهُمُ الْبَيِّنَةُ ۙ﴿۱﴾ رَسُوْلٌ مِّنَ اللّٰهِ

نه وؤ هغه کسان چه کفر ئیے کړیدے دَ اهلِ کتابو نه او مشرکان پریخودونکی تر دے پورے چه راغے دوی ته دلیل ښکاره (۱) رسول دَ طرف دَ اللّٰه تعالیٰ نه

سورة البينة

او دے ته سورة المنفکین او سورة البرية اوسورة لم یکن او سورة البلد او سورة القیامه هم وئیلے کیدیشی۔

ربط: دَ دے سورۃ دَ ماقبل سره په ډیرو وجوهو سره دے، اوله وجه دا ده چه دا پشان دَ علت دے دَپاره دَ اناانزلنٰه اه یعنی دا قرآن مونږ نازل کړو دَ دے وجے نه چه دَ اهل کتابو، کافرانو اومشرکانو اصلاح بغیر دَ دے قرآن نه نه کیدله۔ دویمه وجه دا ده چه په محکمې سورة کښ دَ قرآن عظمت ذکر کړے شونو په دے سورة کښ دَ هغے مقصد ذکر کوی۔

دعویٰ دَ سورة: ذکر دَ نعمت دَ رسالت دے سرهٗ دَ زجرنه منکرینو دَ رسالت ته په (۲،۱) کښ او دَ اسماءِ حسنیٰ نه دوه ذکردی اللّٰه، رب۔

خلاصه دَ سورة: داد ه دَ اول نه ذکر دَ ضرورت(نعمت) دَ رسالت دَ اخری رسول دے په (۳،۲،۱) کښ بیا زجرپه تفرق سره په (٤) کښ بیا مقصد دَ قرآن او دَ رسول په (٥) کښ بیا تخویف اخروی دے منکرینوته په (٦) کښ اوبشارتِ اخرویه دے مؤمنانوته په (۸،۷) کښ ۔

تفسير

[۱] مراد دَ اهلِ کتابو کافرانونه هغه یهود اونصاریٰ دی چه اصل دین ئیے حق دے او دعویٰ کوی دَ کتاب سماوی لکه تورات او انجیل لیکن په دین کښ ئیے تبدیل اوتحریف کړے دے په عقیده او اعمالو کښ ﴿وَالْمُشْرِكِيْنَ﴾ مراد دَ دے نه هغه کافران دی چه دَ هغوی کتاب سماوی نیشته اواصل دین ئیے باطل دے چه هغه عبادت دَبُتانواودَ نمراوسپوګمئے اوستورو وغیره دے حاصل دَ فرق دا دے چه کتابی کافرشرك کوی لیکن هغے ته توحید وائی اودَ شرك دَنوم نه نفرت کوی اومشرك کافر هغه دے چه شرك کوی اوهغے ته شرك وائی اوهغے ته دین حق وائی اوپه دے معنیٰ سره کتابی ته مشرك نه وئیلے کیږی۔ یا مراد دَ مشرك نه هرهغه څوك دے چه په عقیده یا عمل کښ ئیے یوقسم شرك پیداشي۔ یعنی شرك فی الربوبیة یا فی الالوهیة یافی الاسماء والصفات یافی الحکم نو هغه مشرك دے اګرچه اللّٰه تعالیٰ منی اوکتابِ سماوی او دین سماوی منی اونوم دَ توحید باندے هم اقرارکوی خو په دے معنیٰ سره کتابی (چه یوقسم شرك کوی) نو هغه ته هم مشرك وئیلے کیږی ﴿مُنْفَكِّيْنَ﴾ انفکاك په ډیرومعانوسره راځی، پریخودل، جداکیدل، تردُّد اوشك کول، هلاکیدل په عذاب سره، مهمل کیدل، تفصیل دَ بعضے معانوداسے دے اوله معنیٰ چه انفکاك په معنیٰ دَ هلاکت سره شی، نه دی کافران اهل کتاب اومشرکان هلاکیدونکی په عذاب دَ اللّٰه تعالیٰ سره

يَتْلُوْا صُحُفًا مُّطَهَّرَةً ۝٢ فِيْهَا كُتُبٌ قَيِّمَةٌ ۝٣ وَمَا تَفَرَّقَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ اِلَّا مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُمُ
الْبَيِّنَةُ ۝٤ وَمَآ اُمِرُوْٓا اِلَّا لِيَعْبُدُوا اللّٰهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ۙ حُنَفَآءَ وَيُقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُوا الزَّكٰوةَ وَذٰلِكَ
دِيْنُ الْقَيِّمَةِ ۝٥ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ وَالْمُشْرِكِيْنَ فِيْ نَارِ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ اُولٰٓئِكَ

لولی صحیفے پاکے (۲) په هغے کښ کتابونه دی پوخ مضمون والا (۳) او نه دی ډلے ډلے شوے هغه کسان چه ورکړے شویدے ورته کتاب (کتابیان) مګر روستو دَ دینه چه راغے دوی ته دلیل ښکاره (٤) اونه دے حکم کړے شوے دوی ته مګر دپاره دَ دے چه بندګی دے کوی دَ اللّٰه تعالیٰ خالص کوؤنکی هغه لره بندګی کلك په توحید باندے او پا بندی دے کوی دَ مونځ او ورکوی دے زکوٰة او دا دین دے دَ کلکو خلقو (٥) یقیناً هغه کسان چه کفرئے کړیدے دَ کتاب والو نه او مشرکان په اور دَ جهنم کښ به وی همیشه به وی په هغے کښ دغه کسان

تردے پورے چه دوی ته بینه راشی،، نو هرکله چه بینه (رسول اوقرآن) راغے نو دوی تفرق اوانکار او کړونواوس دَ عذاب مستحق شول لکه په سورة اسراء (۱۵)کښ دی۔ دویمه معنیٰ دا ده چه انفکاك په معنیٰ دَ تردد اوشك سره شی، نه وؤ کافران کتابیان اومشرکان شك اوتردد کوونکی په خپل دین باطل کښ تردے پورے چه راغے دوی ته رسول اوقرآن، نوچا خو ایمان راوړو اوچاچه خلاف او کړونو دَ هغوی هم په خپل دین کښ شك اوتردد پیدا شونو متفرق شول۔ دریمه معنی داده چه نه وؤکافران کتابیان اومشرکان جداکیدونکی (پریخودونکی) مدح کولواوطلب کولودَ بعثت دَ رسول ﷺ لره تردے پورے چه هغه رسول راغے، نو تفرق ئے شروع کړو او دَهغه رسول مدح کول ئے پریخودله تائید دَ دے معنے دا دے چه کتابیانو به په نبی ﷺ سره استفتاح کوله لکه چه په سورة بقره (۸۹) کښ دَ هغے ذکرشویدے اومشرکین عرب به دَ رسول دَ راتللو او دَ هغه دَ منلو وعدے کولے لکه چه په سورة فاطر(٤۲)کښ دی او حدیث صحیح سره ثابت دی چه دوی به دَ بعثت دَ رسول ﷺ نه مخکښ هغه ته امین اوصادق وئیلو ﴿الْبَيِّنَةُ﴾ هغه دلیل دے چه په وضاحت کښ پشان دَ رنړاکوؤنکی صباوی چه څومره باقی وی نورنړائے ډیریږی او مصداق دَ دے رسول ﷺ دے سرهٔ دَ قرآن کریم نه۔

[۳،۲] دا تفسیر دَ بینة دے ﴿يَتْلُوْا﴾ معلومه شوه چه افضل عبادت دَ قرآن لوستل اوبیانول دی۔ ﴿صُحُفًا﴾ یعنی هغه وحی چه په صحیفوکښ ده اونبی ﷺ به هغه په یادو باندے لوستلواومراد دَ دے نه صحف دَ ملائکودی لکه په سورة عبس(۱٤،۱۳) کښ تیرشویدی﴿مُطَهَّرَةً﴾پاکے دی دَ مضمون دَشرك اوکفراونامناسبوخبرونه اودَ غلطئے نه﴿فِيْهَا كُتُبٌ﴾مراد دَ دے نه احکام الٰهیه دی﴿قَيِّمَةٌ﴾په معنیٰ دَ مستقیمة سره دے یا مراد دَکتب نه سورتونه دی ځکه چه هرسورة دَقرآن په منزله دَکتاب دے۔

[٤] دا زجر دے په تفرق اوپه اختلاف سره روستودَ اقامة دَ حجت نه، اودَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ، تخصیص ئے دَ دے وجے نه اوکړو چه منشأ دَ خلاف خو اهل علم وی او عوام خلق دَ هغوی مقلّدین وی۔

[٥] په دے کښ تاکید دَ زجرِ سابق دے یعنی دوی دَدین اتفاقی اجماعی نه (چه دین قیّم دے) تفرق کړے دے ﴿وَمَآ اُمِرُوْٓا﴾ مراد دَ دے نه امرکول دی په کتابونومخکنویعنی دا دین دَ پولوکتب الٰهیۂ دین دے اودَ

هُمْ شَرُّ الْبَرِيَّةِ ﴿٦﴾ إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أُولَٰئِكَ هُمْ خَيْرُ الْبَرِيَّةِ ﴿٧﴾ جَزَاؤُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ جَنَّاتُ
عَدْنٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ۖ رَّضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ ۚ ذَٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ رَبَّهُ ﴿٨﴾ ع

دوی بدتر دی دَ مخلوق نه (٦) یقیناً هغه کسان چه ایمان ئیے راوړے دے او عملونه ئیے کړیدی دَ سنت برابر دغه کسان دوی ډیر غوره دی دَ مخلوق نه (٧) بدله دَ دوی په نیز دَ رب دَ دوی جنتونه دَ همیشوالی دی چه بهیږی به لاندے دَ هغے نه ولے (نهرونه) همیشه به وی په هغے کښ همیشه رضا دے اللّٰه تعالیٰ دَ دوی نه او دوی رضا دی دَ هغه نه دا هغه چا لره چه یره کوی دَ رب خپل نه (٨)

ټولو انبیاء علیهم السلام دین دے یا مراد دا دے چه دوی ته په دے قرآن کښ امرد دے ځیزونو شویدے او حال داچه دَ دوی په کتابونو کښ هم هغه ځیزونه وؤ نو ولے انکار کوی ﴿مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ﴾ دین په معنیٰ دَ عبادت سره دے، اخلاص کول دَ عمل دی دَ اللّٰه تعالیٰ دَپاره بغیرد ریاء او سمعت اونورو اغراضودنیویونه اومحل دَ دے قلب (زړه) دے نودا مرادف دے دَنیت شرعیه سره نودَ دے نه علماؤ استدلال کړے دے چه په هرعبادت کښ نیت شرط دے لکه چه په حدیث صحیح کښ راغلی دی انماالاعمال بالنیات﴿حُنَفَاءَ﴾ شربینی وئیلی دی چه حنیف هغه دے چه پنځوملتونودَ اصولونه برئ وی۔ یهودیت، نصرانیت، صابئیت، مجوسیت، اودَ شرك ټول اقسام اوهرکله چه ذالك اشاره ده درے واړوته نواهل علمودَ دے نه استدلال کړے دے چه اعمال داخل دی په ایمان کښ۔

[٦] په دے کښ تخویف اخروی دے منکرینو دپاره ﴿شَرُّ الْبَرِيَّةِ﴾ دَبرء نه دے په معنیٰ دَ پیدا کولوسره نو برية ټول مخلوق دی ملائك اوجن پکښ هم داخل دی یا دَ بَرئ نه دے(بغیرد همزه) نه خاوروته وئیلے شی نو بریه صرف انسانانوته وئیلے کیږی ځکه چه دوی دَ خاورونه پیدا دی لیکن اول قول غوره دے په قرینه دَ سورة انفال (٢٢،٥٥) سره۔

[٨،٧] په دے کښ بشارت اخرویه دے مؤمنانو دَپاره ﴿وَرَضُوا عَنْهُ﴾ په دے کښ اشاره ده چه دَ دوی ټولے تمناګانے به پوره کیږی دَدے وجے نه به رضاوی، یا په ثواب دَ اللّٰه تعالیٰ سره به رضاوی ﴿ذَٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ رَبَّهُ﴾ دَدے جملے په راوړلو کښ یوفائِده داده چه ابتداء دَ ایت په باره دَ صحابه کرامو کښ نازل شویوؤ نوپه دے جمله کښ ئیے دَ روستو امت ذکر اوکړوبله فائِده دا ده چه دَ ایمان اوعمل صالح سره ئیے خشیت شرط کړے دے ځکه چه خشیت کښ امتثال دَ ټولو اوامرو اواجتناب دَ ټولومنهیاتونه داخل دے موافق دَ استطاعت سره۔

سُوْرَةُ الزِّلْزَال (۹۹) مَدَنِيَّةٌ (۹۳) بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ اٰيَاتُهَا ۸ رُكُوْعَاتُهَا ۱

اِذَا زُلْزِلَتِ الْاَرْضُ زِلْزَالَهَا ۝۱ وَاَخْرَجَتِ الْاَرْضُ اَثْقَالَهَا ۝۲ وَقَالَ الْاِنْسَانُ مَا لَهَا ۝۳ يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ

هرکله چه اوخوزولے شی زمکه (پوله) په خوزولو دَ هغے سره (۱) او را اوباسی زمکه بوجونه خپل (۲) او اوبه وائي انسان څه اوشو دے لره (۳) پدغه ورځ بیانوی به

سورة الزلزال

اودے ته سورة الزلزلة او سورة اذازلزت هم وئیلے کیدیشی۔

ربط: دَ دے سورة دَ مخکښ سره په دوه وجوهوسره دے اوله وجه داده چه مخکښ سورتونوکښ(دَ سورة الضحیٰ نه) درے اصول دَ ایمان ذکرشول، رسالت، توحید اوقرآن نوپه دے سورة کښ څلورم اصل ذکرکوی چه هغه اثبات دَ بعث بعد الموت دے۔ دویمه وجه دا ده چه په مخکښ سورة کښ زجروؤ منکرینوته نو په دے سورة کښ تخویف اخروی دے دَپاره دَ منکرینو۔

دعویٰ دَ دے سورة: اثبات دَقیامت دے په ذکردَ احوالودَ هغے سره چه هغه پنځه دی اونوم دَ اللّٰه تعالیٰ یو(رب) ذکردے۔

خلاصه دَ دے سورة : په دے کښ پنځه حالات دَ قیامت (چه هغه احوال دی) ذکرکوی (۱)زلزال(۲) اخراج الاثقال (۳) تحدیث بالاخبار والاحوال(٤) تشتیت الناس وَ صدروهم لاَرَاءةِ الْاَعْمَال وملاقات کلّ انسان مع الاعمال۔ اوپه مینځ کښ حیرانتیا دَ انسان ذکرکړے ده۔

تفسیر

[۱] دا اول حال دے اوپه دے زلزلة کښ دَ مفسرینو دوه قولونه دی اول دا چه دا به وی په وخت دَ فنا دَ دنیاکښ مخکښ دَ ورځ دَقیامت نه دَعلاماتودَ قیامت نه به وی لکه چه دا اول قول وؤپه ایت دَ سورة حج کښ اودویم قول دا دے چه دا په وخت دَبعث بعد الموت کښ ده او دا قول مناسب دے دَ روستو یَوْمَئِذٍ سره چه دوه کرته ذکردے او هغه خوورځ دَ قیامت ده۔

[۲] دا دویم حال دے اونسبت دَ اخراج زمکے ته مجازی دے فاعل حقیقی خواللّٰه تعالیٰ دے اوهرکله چه دَ زلزلے په باره کښ اول قول واخستلے شی نودَ اثقال نه مراد به خزانے دَ زمکے وی لکه چه په حدیث دَ مسلم کښ وارد دی چه مخکښ دَ قیامت نه به زمکه دَ سرواوسپینو زرولوئے لوئے ټکړے را اوغورځوی پشان دَستنولیکن خلق به دَ وجے دَ هیبتونونه یا دَ پیرمالونونه دَ هغے نه بے پرواه وی۔ اوکه چرے دویم قول واخستلے شی نومراد دَ اثقال نه مړی دی چه په ورځ دَ قیامت به زمکے نه دوباره را اویستلے شی۔

[۳] په دے کښ حیرانتیا اوتعجب دَ انسان ذکرکوی اشاره ده چه دَ زلزلے او دَ اثقال راوتلوبه ډیرهیبت وی په انسان باندے۔

اَخْبَارَهَا ۝٤ بِاَنَّ رَبَّكَ اَوْحٰى لَهَا ۝٥ يَوْمَئِذٍ يَّصْدُرُ النَّاسُ اَشْتَاتًا ۙ لِّيُرَوْا اَعْمَالَهُمْ ۝٦ فَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ
خَيْرًا يَّرَهٗ ۝٧ وَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَّرَهٗ ۝٨ ع

خبرونه خپل (٤) په دے وجه چه رب ستا حکم کړیدے هغے ته (٥) په دغه ورځ به را اوځی خلق (دَ قبروونو نه) مختلفے ډلے ، دے دپاره چه اوخودلے شی دوی ته عملونه دَ دوی (٦) نو چاچه عمل کړیدے په مقدار دَ ذرّے نیکی او به وینی هغه (٧) او چاچه عمل کړیدے په مقدار دَ ذرّے بدی اوبه وینی هغه (٨)

[٥،٤] په دے کښ دریم حال ذکرکوی اومراد دَ یومَئِذٍ نه ورځ دَ قیامت ده اوپه حدیث دَ ترمذی کښ وارد دی چه مراد دَ دے نه شهادت ورکول دَ زمکے دی په هغه عملونوباندے چه انسان دَدے په شاباندے کړی دی ﴿بِاَنَّ رَبَّكَ اَوْحٰى لَهَا﴾ یعنی اللّٰه تعالیٰ به دا زمکه گویاکړی لکه په حم سجده (٢١) کښ دی یا مراد دَ ایحاء نه امرکول دی۔

[٦] دا ځلورم حال دے یومئِذٍ نه مراد ورځ دَ قیامت ده ﴿يَصْدُرُ النَّاسُ﴾ یعنی ټول خلق به موقف دَحساب ته راغلی وی نودَ هغے نه به جنت یا جهنم طرف ته روان شی ﴿لِّيُرَوْا اَعْمَالَهُمْ﴾ مراد دَ دے نه نفس عملونه دی یا جزاء دَ عملونو ده یا کتابونه دَ اعمالو دَ دوی دی۔

[٨،٧] دا پنځم حال دے او په حدیث دَ صحیح بخاری کښ دیته ایت فاذه جامعه وئیلے شویدے (یعنی مستقل ایت دے چه ټول وجوه دَ خیراوشرپکښ راجمع دی) په حدیث دَ مسند احمدکښ دی چه نبی ﷺ دا ایت په صعصعه ﷺ باندے اولوستلو نوهغه اوئیل چه دا ماله پوره دے پرواه نیشته که نور وانورم ﴿ذَرَّةٍ﴾ نری سورمیږی ته وئیلے کیږی چه په نظر باندے په ډیر مشکله سره راځی۔ په دے لفظ کښ اشاره ده چه خیراوشرکه لګ وی خو معمولی ئے کنټرل نه دی پکار اومراد دَ رؤیت دَ عمل نه نفس عمل لیدل دی یا جزا سزا دَ هغے۔ نوکه خیر ئے برباد شوے وی نو هغه به هم او وینی دپاره دَ زیات حسرت کولو اوکه شرئے معاف شوے وی نو هغه به هم او وینی دپاره دَ زیاتے خوشحالئے۔

سُوْرَةُ الْعٰدِيٰتِ (۱۰۰) مَكِّيَّةٌ (۱۱۱)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اٰيَاتُهَا ۱۱ رُكُوْعَاتُهَا ۱

وَالْعٰدِيٰتِ ضَبْحًا ۝۱ فَالْمُوْرِيٰتِ قَدْحًا ۝۲ فَالْمُغِيْرٰتِ صُبْحًا ۝۳ فَاَثَرْنَ بِهٖ نَقْعًا ۝۴ فَوَسَطْنَ بِهٖ جَمْعًا ۝۵

قسم دے په منډه وهونکو اسونو چه هینږیږی (۱) بیا اور راویستونکی دی په خپو وهلو سره (۲) بیا لوټ مار کوؤنکی په وخت دَ صبا کښ (۳) نو را اوچتے کړی په هغے سره دوړے (٤) نو ورننوځی په هغے سره په ډله دَ دښمن کښ (٥)

سورة العاديات

ربط: دَ دے سورة دَ ماقبل سره په دوه وجوهو سره دے اوله وجه دا ده چه په هغه سورة کښ تخويف اخروی ووُ او په دے سورة کښ زجردے منکرینوته۔ دویمه وجه دا ده چه دَدے سورة په (۹) کښ تفسیر دَ سورة زلزال دَ (۲) دے اوپه (۱۰) کښ تفسیرد سورة زلزال دَ (٤) دے۔

دعویٰ دَ سورة: زجر دے په درے طریقو سره، سرهٔ دَتخویف اخروی نه په درے طریقو سره اودوه اسماء دَ اللّٰه تعالیٰ ئے (رب، اوخبیر) ذکرکړی دی۔

خلاصه دَ سورة: پنځه حالات دَ اسونوپه طوردَ قسم شهادت ذکرکوی تر(٥) پورے بیا دعویٰ دَ سورة ده په (٦) کښ اودَ هغه دعوے تاکید دے په (۸،۷) کښ اودا ټول زجرونه دی اوبیا تخویف اخروی دے په (۱۰،۹) کښ اودَ هغے تاکید دے په (۱۱) کښ۔

فائده: دَ دے سورة نه ترسورة ماعون پورے په اوؤ سورتونوکښ زجرونه دی دشمنانو دَ قرآن ته او دَ هغوی اقساموته اشاره کوی او دَ هغوی صفات اوحالات ذکرکوی صرف سورة القارعة په مینځ کښ په طور دَ تخویف اخروی سره دے۔

تفسير

[۱] دا قسم دے په صفاتو اواحوالو دَ اسونو باندے په روایت دَابن عباس رضی اللّٰه عنهما سره اواحوال دَ اوښانودی په روایت دَ علیؓ سره او مقصود په دے کښ شهادت پیش کول دی په دعویٰ دَسورة باندے۔کافرانو په زمانه دَ جاهلیت کښ په یوبل باندے دَ اسونو او اوښانو په ذریعے سره حملے کولے اولوټ مارئے کوؤدَپاره دَ ظلم او دَ غصب دَ مالونو، اوپه اسلام کښ مجاهدین اسونه او اوښان استعمالوی دَپاره دَ جهاد اوغزوه کولو دَکافرانو اودشمنانودَ دین سره نویوآله اوسبب دے ځوك ترینه غلطه فائده اخلی اوځوك ترینه حقه فائده اخلی په دے باندے نورخیزونه هم قیاس دی لکه مال او اسلحه اوعلم او قوت دَ بدن وغیره ځوك دا ځیزونه دَ ښه کاردپاره استعمالوی اوځوك ئے دَ بدکاردپاره نوذکردَ اسونو اواوښانوپه طریقه دَ مثال سره دے۔اوپه دے ایاتونوکښ پنځه حالات دَ اسونو او اوښانوپه ترتیب سره ذکرکوی اول حال دا دے ﴿وَالْعٰدِيٰتِ ضَبْحًا﴾ ضَبْحًا اواز دَ سینے دَ اس دے په وخت دَ منډه وهلو اوخاصکر په هغه حال کښ چه ځُلے ته ئے واکے اچولے شویوی۔

[۲] دا دویم صفت (حال) دے ﴿فَالْمُوْرِيٰتِ﴾ مراد دا دے چه اسونه په سخته منډه کښ سُوَے خپلے

إِنَّ الْإِنسَانَ لِرَبِّهِ لَكَنُودٌ ﴿٦﴾ وَإِنَّهُ عَلَىٰ ذَٰلِكَ لَشَهِيدٌ ﴿٧﴾ وَإِنَّهُ لِحُبِّ الْخَيْرِ لَشَدِيدٌ ﴿٨﴾ أَفَلَا
يَعْلَمُ إِذَا بُعْثِرَ مَا فِي الْقُبُورِ ﴿٩﴾ وَحُصِّلَ مَا فِي الصُّدُورِ ﴿١٠﴾ إِنَّ رَبَّهُم بِهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّخَبِيرٌ ﴿١١﴾

یقیناً انسان خپل رب لره ډیر نا شکره دے (٦) او یقیناً هغه په دے باندے خامخا خبر دار دے (٧) او یقیناً هغه (انسان) دَ وجے دَ مینے دَ مال نه ډیر سخت دے (٨) ایانه دے پوهه (په هغه وخت) کله چه راپورته به کړیشی هغه څوك چه په قبرونو کښ دی (٩) او ښکاره به کړیشی هغه څه چه په سینو کښ دی (١٠) یقیناً رب دَ دوی په دوی باندے پدغه ورځ خامخا خبردار دے (١١)

دَکانړو سره جنګوی نو دَ هغے نه اور را اوباسی په دے کښ اشاره ده تیزے منلے وهلوته۔

[٣] دا دریم حال دی اودا مقصد دَ منلے وهلو دے یعنی په دُشمن باندے حمله کوی او لوټ مارکوی۔

[٥،٤] دے دواړه ایتونو کښ څلورم او پنځم حال ذکر دے۔

[٦] دا جواب قسم دے او اول زجر دے او دَ الإنسَانَ نه مراد منکرانسان دے په قرینه دَ مابعد صفاتو سره۔﴿لَكَنُودٌ﴾ دَ دے لفظ لس معانے قرطبی ذکرکړی دی بعضے دا دی(١) ناشکری کوؤنکے(٢) هغه کس چه مصیبتونه ذکرکوی اونعمتونه هیروی (٣) هغه کس چه یوازے خوراك کوی اوبخښش نه ورکوی او په خپل مریانو(خادمانو) باندے ظلم کوی۔ اومناسبت دَ قسم اوجوابِ قسم دا دے چه اسونه اواوښان اللّٰه تعالیٰ دَخیردَپاره پیداکړی دی لیکن ظالمان انسانان ئے دَ ظلم کولودپاره استعمالوی او داناشکری ده نو دارنګ هرانسان چه نعمتونه دَ اللّٰه تعالیٰ بے مصرفه اوبے ځایه استعمالوی نو هغه کنود دے نو هرمشرك کنود دے، اواسراف کوؤنکے کنود دے، اوظالم چه خپل قوت بدنی اومالی دَ ظلم دَپاره استعمالوی نوکنود دے اوعالم چه علم خپل بے ځایه استعمالوی (عمل نه کوی دعوت نه کوی) نوکنود دے۔

[٧] دا دویم زجر دے او ﴿لَشَهِيدٌ﴾ شهید نه مرادشهادت په لِسانِ حال سره دے یعنی حال او اعمال دَ دے انسان ګواهی ورکوی چه دے کنود دے یا دا تخویف دے یعنی اللّٰه تعالیٰ دَ دهٔ په ناشکرئے باندے بندهٔ عالم دے هغه به ورله سزا ورکوی۔

[٨] دا دریم زجر دے اوپه دے ایت کښ دوه اقوال دی دَمفسرینواول قول دا دے چه شدید په معنیٰ دَ سخت اوپوخ دے او ﴿لِحُبِّ الْخَيْرِ﴾ یعنی دا انسان په محبت دَمال کښ ډیر پوخ اوسخت دے۔ دویم قول دا دے چه شدید په معنیٰ دَ بخیل دے حق دَ اللّٰه تعالیٰ اوحقوق دَ بندګانونه اداکوی۔

[١٠،٩] پدیکښ تخویف اخروی دے او دا علاج هم دے دَپاره دَ زائل کولو دَ حب دَ دنیا ﴿مَافِي الصُّدُورِ﴾ هغه چه سینوکښ دی یعنی خیراوشر، ارادے اونیتونه دا دلیل دے چه په اراده اونیت باندے حساب کیدے شی لکه په سورة بقره(٢٨٤) کښ دی اوپه دے کښ وسوسه داخله نه ده ځکه چه هغه اختیاری نه ده اوپه دے کښ اشاره ده چه دَ اللّٰه تعالیٰ نه هیڅ عمل نشی پټیدلے روستو جمله په دے باندے دلیل دے اواعمال دَ جوارحو ئے ذکرنه کړل ځکه چه هغه تابع دی دَ اعمالو دَ قلوبو چه اراده اونیت دے۔

[١١] دا علت دے دَبعثراوحصل دَپاره اواشاره ده چه فاعل دَ دے دواړو اللّٰه تعالیٰ دے﴿يَوْمَئِذٍ﴾ (سوال) اللّٰه تعالیٰ خو اوس هم خبردے نو دَ ورځ دَ بعث تخصیص ئے ولے اوکړو؟ (جواب)دلته مراد جزاء

سُوْرَةُ الْقَارِعَة (۱۰۱) مَكِّيَّةٌ (۳۰) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۱۱ رُؤُوْسُهَا ۱

اَلْقَارِعَةُ ۝۱ مَا الْقَارِعَةُ ۝۲ وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا الْقَارِعَةُ ۝۳ يَوْمَ يَكُوْنُ النَّاسُ كَالْفَرَاشِ الْمَبْثُوْثِ ۝۴ وَتَكُوْنُ

افت زړونه ټکوؤنکے (۱) څه دے افت زړونه ټکوؤنکے (۲) اوڅه پوهه کړے ئے ته چه څه دے افت زړونه ټکوؤنکے (۳) په هغه ورځ چه شی به خلق پشان دَ پتنګانو خواره واره (٤) او شی به

(بقیه تفسیر دَ سورة العادیات) ورکول دی صرف خبر اوعلم نه دے دَ دے وجے نه تخصیص اوکړے شو۔ ﴿لَخَبِيْرٌ﴾ په باطن هم علم لری لکه چه په ظاهر باندے عالم دے۔

فائده: په دے سورة کښ ذکر دَ مرض دے په (٦) کښ اوسبب مرض دے په (۸) کښ اوعلاج مرض دے په (۹، ۱۰) کښ۔

سورة القارعة

ربط: دَد ے سورة دَ مخکښ سورة سره اول دا دے چه په هغه سورة کښ بعث دَ اصحاب قبورو اواظهاردَ مافی الصدور ذکرشونو په دے سورة کښ دَ هغه وخت نوم ذکرکوی چه القارعة دے۔ اواحوال ئے ذکرکوی ۔دویم ربط دا دے چه په هغه سورة کښ بعث دَ خلقو ذکرشونو په دے سورة کښ دَ هغوی تقسیم ذکرکوی دوه قسمونوته۔

دعویٰ دَ دے سورة: تخویف اخروی په ذکر دَ احوالو دَ قیامت چه قرع ده اوحال دَ انسان او دَ غرونودے سرهٗ دَ تقسیم نه دوه قسمونوته۔

خلاصه دَ سورة دا ده: چه حال دَ قیامت ذکرکوی په صفت دَ قرع سره بیا ذکردَ پریشانئے دَ انسانانو بیا ذکردَ حال دَ فنا دَ غرونوبیا تقسیم دَ خلقو دے سرهٗ دَ بشارت اوتخویف نه۔

تفسیر

[۳،۲،۱] قیامت ته قارعه ځکه وئیلے کیږی چه ټکوی زړونودَ خلقو لره په هیبتونو سره او اسمانونو لره په تشقق اوانفطار سره او زمکے اوغرونولره په تدکیك سره۔ او قارعة دَ قرع نه ده په اصل کښ سخت آوازته وئیلے شی۔

[٤] په دے کښ ذکردَ بعضِ احوالودے ﴿كَالْفَرَاشِ الْمَبْثُوْثِ﴾ فراش پتنګان یعنی هغه چینجی دی وزرو والا چه په چراغ اوپه اور باندے راجمع کیږی۔تشبیه دَ دوی سره په ډیروصفتونو کښ ده، ډیروالے، خوریدل دَ هرطرف نه کمزوری اوذلت ﴿الْمَبْثُوْثِ﴾ یعنی یوطرف خاص ئے معلوم نه وی بلکه هرطرف ته الوځی۔

الْجِبَالُ كَالْعِهْنِ الْمَنْفُوشِ ﴿۵﴾ فَأَمَّا مَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُ ﴿۶﴾ فَهُوَ فِي عِيشَةٍ رَّاضِيَةٍ ﴿۷﴾ وَأَمَّا مَنْ خَفَّتْ مَوَازِينُهُ ﴿۸﴾
فَأُمُّهُ هَاوِيَةٌ ﴿۹﴾ وَمَا أَدْرَاكَ مَا هِيَهْ ﴿۱۰﴾ نَارٌ حَامِيَةٌ ﴿۱۱﴾

غرونه پشان دَ وړئ رنګینے ډینډیت کړے شوے (۵) نو هغه څوك چه درانه وی عملونه دَ تَلَلو دَ هغوی (٦) نو هغه به په ژوند خوشحاله کښ وی (۷) او هغه څوك چه سپك وی عملونه دَ تَلَلو دَ هغوی (۸) نو ځائے دَ ورګرځیدو به هاویه وی (۹) او څه پوهه کړے ئیے ته چه هغه څه شے دے (۱۰) اور دے سخت ګرم (۱۱)

[۵] دابل هیبت ذکرکوی چه اثرِدَقارعة دے په غرونوباندے اشاره ده چه دَقارعے اثربه په غټ اوسخت مخلوق چه غرونه دی اوپه کمزوری مخلوق چه انسانان دی یوشان وی ﴿الْمَنْفُوشِ﴾ لکه وړئے چه ډینډیت کړے شی نو اجزا ئیے دَ یوبل نه جداشی نوداسے حال به دَ غرونو هم شی۔

[۷،٦]دا ذکردَتقسیم دَانسانانودے روستودَبعث بعد الموت نه اواول حال دَمؤمنانودے په طریقه دَبشارت سره ﴿مَوَازِينُهُ﴾ غوره دا ده چه دَ چابه نفسِ عمل تللے شی اودَچا هغه به مجسم کړے شی اودَ چابه صحیفے تللے شی اودَمؤمنانو کافرانودَ ټولو دَپاره به وزن کیدے شی او دارنګ اختلاف دے چه میزان و دے لیکن په اعتبار دَ اعمالو سره ئیے ورته جمع وئیلے ده یا میزانونه ډیردی (واللّٰه اعلم) ﴿ثَقُلَتْ﴾ ثقل درونوالے په سبب دَ ډیروالی سره نه دے بلکه په سبب دَاخلاص او دَ عقیدے دَ توحید اواتباع سنت سره دے اګرچه لګ عمل وی۔ اودارنګ سپك والے دَ عمل دَ کم والی دَوجے نه نه دے بلکه دَ وجے دَ شرك او دَ بدعاتو او مخالفت دَ کتاب اوسنت دَ وجے نه دے او دیته اشاره کړے ده خازن په خپل تفسیر کښ ثقل سره ئیے اتباع حق اوخفت سره ئیے اتباع باطل ذکرکړے ده۔

[۹،۸] دا حال دَ منکرینو دے او تخویف دے ﴿فَأُمُّهُ﴾ اُمٌّ په اصل کښ مرجع اومجمع ته وئیلے شی یعنی هاویه به دَ دهٗ مرجع وی لکه چه دَ بچی مرجع (ځائے دَ ورګرځیدلو) خپله مور وی ﴿هَاوِيَةٌ﴾ دا نوم دے دَ یوطبقے دَ جهنم او دَ هویَ نه ماخوذ دے غورځیدلوته وئیلے شی۔

[۱۱،۱۰] پدیکښ عظمت شان دَ هاویه ذکرکوی﴿نَارٌ حَامِيَةٌ﴾ په حدیث صحیح کښ دَ هغه اورسخت ګرموالے ذکرکړیدے چه هغه دَدنیا دَ اُور نه اویا چنده زیات ګرم دے (نعوذباللّٰه منها)۔

سُوْرَةُ التَّكَاثُرِ مَكِّيَّةٌ (۱۰۲) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۸ رُكُوْعَاتُهَا ۱

اَلْهٰىكُمُ التَّكَاثُرُ ۙ﴿۱﴾ حَتّٰى زُرْتُمُ الْمَقَابِرَ ؕ﴿۲﴾ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ۙ﴿۳﴾ ثُمَّ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ؕ﴿۴﴾ كَلَّا لَوْ تَعْلَمُوْنَ

غافل کړئے تاسو (حرص) دَ ډیرو مالونو (۱) تر دے پورے چه زیارت کوئے دَ قبرونو (دَ دے دپاره) (۲) هیڅرے داسے نه ده پکاره زر ده چه پوهه به شئے تاسو (۳) بیا هیڅرے داسے نه ده پکار زر دے پوهه به شئے تاسو (٤) یقیناً که چرے تاسو پوهه لرئے

سورة التكاثر

اودیته سورة الهٰكم هم وئیلے شی۔

ربط: دَدے سورة دَ مخکښ سره په څووجوسره دے اوله وجه دا ده چه هلته کښ تخویف اخروی وؤنودلته کښ زجر ذکرکوی سرهٔ دَ تخویف نه پشان دَ سورة العادیات۔ دویمه وجه دا ده چه په هغه سورة کښ تذکیر دَ اٰخرت وؤنو په دے سورة کښ تزهید فی الدنیا ذکر کوی چه دا دنیا سبب دَ غفلت دے دَ اخرت نه۔

دعویٰ دَ دے سورة: زجر دے په محبت دَ دنیا سره، اوتخویف اخروی دیۓ۔

خلاصه دَ دے سورة دا ده: اول زجردے په محبت دَ دنیا سره په (۲،۱) کښ بیا تخویف دے په عذاب دنیوی اوبرزخی سره په (٤،۳) کښ بیا زجردے په ترك دَ یقین سره په (٥) کښ بیا تخویف اخروی دے په درے طریقو سره۔

فائِده: په دے سورة کښ دویم قسم دشمنان دَ قرآن ذکرکوی چه هغه دنیا پرست خلق دی۔

تفسیر

[۱] دا زجردے ﴿اَلْهٰىكُمُ﴾ لهو، غفلت او اِعراض ته وئیلے شی اوهغه په دوه قسمه دے یوقسم بغیرَ قصد نه۔ اودویم قسم اِلهَاء په قصد سره ده اوهغه مستلزم ده اعراض لره دَ حق نه اوهغه گناه دے دلته دا قسم مراد دے اودَ دے قسم نه نهی کړے شویوه په سورة المنافقون(۹) کښ یعنی غافل ئیے کړئے تاسودَ القارعے دَ یاد داشت نه اودَ ذکردَ اللّٰه تعالیٰ نه اودَ قرآن اودَقبلولودَحق نه﴿اَلتَّكَاثُرُ﴾ ابن قیم وئیلی دی چه تکاثر په مال کښ، جاه کښ ، ریاست کښ، ښځوکښ، تالیف اوتصنیف کښ، تفریع دَ مسائلوکښ دا ټول تکاثر مذموم دے سیوا دَ نیت دَ تقرب الی اللّٰه نه۔

[۲] دا تاکید دَ تکاثردے اوغایة دَ اِلهاء ده۔ یعنی دَ مالونو وغیره په تکاثرکښ اخته یئی تردے پورے چه مړهٔ به شئے اوتوبه نه اوباسئے دویمه معنیٰ دا ده چه تاسو تکاثر په ژوندو اشخاصوسره کوئے تردے پورے چه په مړو سره هم تکاثرکوئے لکه چه دا طریقه دَجاهلیت والوده ۔دریمه معنیٰ دا ده چه ابوحیان په البحرالمحیط کښ ذکرکړیده حاصل ئیے دا دے چه غافل کړئے تاسوتکاثرتردے چه زیارت دَ قبرونوکوئے دَتفاخردَپاره اوحال دا دے چه زیارت دَ قبرونوخوجائزکړے شوے دے دَ وعظ اخستلو دَپاره (نودارنګ څوك چه زیارت دَقبردَ مال دَ دنیا اوطلب دَ جاه دَپاره کوی یا دَنورو حاجاتِ دنیویه دَپاره کوی او هغوی په دے سبب سره دَ ذکر اوتوحید دَ اللّٰه تعالیٰ نه غافل شویوی داسے خلقوته هم دا ایت شامل دے) او ابن عطیه

عِلْمَ الْيَقِيْنِ ۝٥ لَتَرَوُنَّ الْجَحِيْمَ ۝٦ ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَا عَيْنَ الْيَقِيْنِ ۝٧ ثُمَّ لَتُسْـَٔلُنَّ يَوْمَئِذٍ عَنِ النَّعِيْمِ ۝٨

پوهه دَ یقین (٥) خامخا اوبه وینئ تاسو جهنم لره (٦) بیا خامخا اوبه وینئ هغه په سترګو دَ یقین (٧) بیا خامخا تپوس به او کړیشی ستاسونه پدغه ورځ په باره دَ نعمتونو کښ (٨)

په تفسیرالمحرر الوجیزکښ وئیلی دی چه دا زورنه ده هغه چاته چه ډیر زیارتونه دَ قبرونو کوی تردے پورے چه نورعبادتونو اوتعلّم دَ دین ته ځان نه اوزګاروی۔ بیائے وئیلی دی لکه خلق چه نن داسے کوی چه زیارت دَ قبرونو ئے لازم ګنړلے دے او په ګټهواوسنګِ مرمر سره ئے اوچتوی اوپخوی اوچتونه او ابادئے ورباندے جوړوی۔

[٤،٣] دا تخویف بعد التخویف دے﴿سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ﴾ ئے مکرر راوړے نو په اول کښ اشاره ده وخت دَ ځنکدن ته چه په هغه وخت به ئے یقین راشی په خپله غلطئی باندے اوپه دویم کښ اشاره ده عذاب قبرته۔

[٥] دا هم زجر دے۔ علم الیقین هغه علم دے چه صاحب دَ هغے اورسی ضروریاتو ته په داسے طریقے سره چه هیڅ شك په ثبوت دَ هغه ضروریاتو کښ پاتے نشی اودَ دے علم تعلق خالص دَ زړه سره دے چه هغه محل دَ یقین دے۔

[٧،٦] داتخویف اخروی دے او﴿لَتَرَوُنَّ﴾ مکرر دے نواول نه مراد دَ لرے نه لیدل دی۔ اودویم نه مراد لیدل دَ نزدے نه دی یا اول لیدل په قلب (زړه) سره دی اودویم لیدل په سترګوسره دی ﴿عَيْنَ الْيَقِيْنِ﴾ دیته علم المشاهده هم وئیلے کیږی یعنی غائب معقول پشان دَ محسوس مشاهد اوګرځی او دا دَ علم الیقین نه هم اوچته درجه ده۔

[٨] دا هم تخویف اخروی کښ داخل دے اوظاهر دا ده چه دا خطاب هم عام دے ﴿النَّعِيْمِ﴾ دا هم عام دے ځکه چه نعیم جمع دَ نعمت ده په دے کښ داخل دے امن اوصحت اوفراغ، غوړونه اوسترګے، اوعقل اوخوراکونه او دَ ځښکلوشیزونه، یخے اوبه، سوری، کورونه او دَ مجاهدنه روایت دے چه هرلذت دَ دنیا پکښ داخل دے ۔

سُوْرَةُ العَصر (۱۰۳) مَكِّيَّةٌ (۱۱۳) — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — اٰيَاتُهَا ۳ رُكُوْعَاتُهَا ۱

وَالْعَصْرِ ۝۱ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَفِيْ خُسْرٍ ۝۲ اِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ ۙ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ ۝۳

قسم دے په زمانه (۱) چه یقیناً انسان خامخا په تاوان کښ دے (۲) مګر هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے او عملونه ئے کړیدی دَ سنت برابر اوپخه وینا ئے کړیده یوبل ته دَ حق او پخه وینائے کړیده یو بل ته دَ صبر کولو (۳)

سورة العصر

ربط: دَ دے سورة دَ ماقبل سره په ځووجوهو سره دے اوله وجه دا ده چه په هغه سورة کښ زجروؤ په تکاثر اوپه غفلت باندے نوپه دے سورة کښ زجردے په نتیجه دَ هغے چه خسران دے۔ دویمه وجه دا چه په هغه سورة کښ سوال ذکرکړے شونو په دے سورة کښ دَسوال نه روستو دوه قسمه انسانان ذکرکوی (خاسرین اوفائزین)۔

دعویٰ دَ سورة: ذکر دَ هغه امورو دے چه فرق پیداکوی په مینځ دَ خاسرینو اوفائزینو کښ۔

خلاصه دَ سورة: قسم په طوردَ شاهد، زجرپه خسران، اوځلور اموردپاره دَ نجات ذکرکوی چه دوه دَ هغے نه کمال فے نفسه دپاره دی یو قوت علمیه (عقیده) دویم قوت عملیه۔ او دوه دَ هغے نه دَ تکمیل دَ غیر دپاره دی یو دعوت اوتعلیم دَ حق، دویم ثبات او دوام په هغے باندے۔

فائده: دَ امام شافعیؒ نه روایت دے که چرے خلقو فکر اوکړو په دے سورة کښ نودا به دوی لره پوره وی۔

تفسیر

[۱] دا قَسم دے او مقصد پدیکښ شهادت دے په اثبات دَ خسران دَ انسانانو باندے۔ اوپه دے کښ دوه قولونه مشهور دی اول داچه مراد دَد ے نه زمانه ده چه په هغے کښ مختلف حالات او واقعات دَ انبیاء علیهم السلام او دَ قومونو دَ هغوی او عذابونه په منکرینو اونجات دَ مؤمنانو واقع شویدی نو ذکردَ ظرف اومراد ترینه مظروف دے۔دویم قول دا دے چه مراد دَ دے نه وخت دَ مازیګر دے چه دَ ورځ اخری وخت دے او دغه وخت دَ تاجرانو او دَ مزدورانودَ کتے اوتاوان وخت دے اوپه حدیث صحیح کښ هم دیته اشاره ده چه هغه څوك چه مونځ دَ مازیګر دَ هغه نه پاتے شونوګویاچه اهل اومال ئے تاوانی شو۔

[۲] دا جواب قَسم دے ﴿الْاِنْسَانَ﴾ مراد دَ دے نه ټول انسانان دی په قرینه دَ استثناء سره اومرجع ئے مشرکانو اوکافرانو اوفساقو فجاروته ده چه دوی په خسران کښ دی۔ اوخسران نقصان اوهلاکت اوتاوان ته وئیلے کیږی۔

فائده: قرآن کریم کښ هغه اياتونه چه اولوستلے شی چه په هغے کښ ماده دَ خسران استعمال شویده نو دَ هغے نه به بنه واضحه شی چه اسباب دَ خسران څه دی هغه دَ سورة بقره په تفسیر دَ مشکلاتو کښ مونږ ذکرکړی دی۔

سُوْرَةُ الْهُمَزَة مَكِّيَّةٌ (۱۰۴) (۳۲) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۹ رُكُوْعَاتُهَا ۱

وَيْلٌ لِّكُلِّ هُمَزَةٍ لُّمَزَةٍ ۝۱ الَّذِيْ جَمَعَ مَالًا وَّعَدَّدَهٗ ۝۲ يَحْسَبُ اَنَّ مَالَهٗٓ اَخْلَدَهٗ ۝۳ كَلَّا

تباهی ده هر یو پشی شا بدویونکی مخامخ طعنونه کوؤنکی لره (۱) هغه چه جمع کوی مال اوشماری هغه (۲) ګمان کوی چه یقیناً مال دَ دهٔ به همیشه اوساتی دهٔ لره (۳) هیڅرے داسے نه ده

(بقیه تفسیر دَ سورة العصر)

[۳] په دے استثناء سره معلومه شوه چه دَ دے ځلورخصلتونونه څوك محروم وی نو هغه په کامل خسران کښ دے اوځوك چه ایمان والاوی لیکن دَ باقی خصلتونونه کلاً یا بعضاً خالی وی نوهغه هم په نوعه دَخسران کښ دے اودا خصلتونه دَکامل مؤمن دی ځکه چه صلاحیت دَ انسان په دوه طریقوسره دے اول کمال دَ خپل نفس اودویم تکمیل دَ نوروانسانانو، اودَ خپل نفس کمال په دوه ځیزونوسره دے اول عقیده چه هغے ته علمی قوت وئیلے شی اودویم عمل صالح چه هغے ته عملی قوت وئیلے شی۔ایمان نه مراد هغه شرعی ایمان دے چه په قرآن کښ په تفصیل سره ذکرشویدے اوعمل صالح هغه دے چه په موافقت دَسنت دَ نبیﷺ سره وی یعنی چه عمل دَهرقسم بدعت اوفسق نه پاك وی۔ اوتکمیل دَغیرهم په دوه ځیزونوسره دے اول دعوت اوتعلیم اوتزکیه چه هغے ته اشاره ده په ﴿وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ﴾ سره دلته مراد دَحق نه قرآن اوطاعة دَاللّٰه تعالیٰ اودَ رسول اللّٰهﷺ اوتزهید في الدنیا او ترغیب الی الاخرة دے اودویم ځیزتلقین دَصبردے چه هغے ته اشاره ده په ﴿وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ﴾سره۔

سورة الهمزة

ربط: دَ سورة دَ مخکښ سره په څو وجوهوسره دے اوله وجه داده چه په هغه سورة کښ ځلورصفتونه دَ فائزینو (غیرخاسرین) ذکرشول نوپه دے سورة کښ ځلورصفتونه دَ خاسرینوذکرکوی۔ دویمه وجه دا ده چه په هغه سورة کښ زجر وؤ په خسران سره اوپه دے سورة کښ تخویف اخروی دے خسران والودپاره۔

دعویٰ دَ سورة: زجردے په اوصاف قبیحه باندے سرهٔ دَ تخویف اخروی نه اوپه دے سورة کښ نوم دَ اللّٰه تعالیٰ یوکرت ذکر دے۔

خلاصه دَ سورة :اول زجر دے اوځلور اوصاف قبیحه ذکرکوی په (۱،۲،۳) کښ بیاتخویف اخروی دے په شپږطریقو سره۔

فائده: پدے سورة کښ اشاره ده چه دَ قرآن دشمن هغه دنیاپرست دے چه داځلور اخلاق پکښ موجود وی۔

تفسیر

[۱] ﴿لِكُلِّ﴾ دا لفظ دلیل دے چه دا ایت عام دے هرهغه چاته چه دا صفتونه پکښ موجود وی ﴿هُمَزَةٍ لُّمَزَةٍ﴾ هُمَزَةٍ هغه کس دے چه پشی شا په چا باندے عیبونه وائي په طریقه دَ غیبت یا بهتان سره او لُمَزَةٍ هغه دے چه مخامخ عیبونه اوطعنونه کوی۔ اومراد دَ دے نه هغه څوك دے چه مخالفت دَ قرآن اوتوحید والو په

لَيُنۢبَذَنَّ فِي الْحُطَمَةِ ﴿٤﴾ وَمَآ أَدْرٰىكَ مَا الْحُطَمَةُ ﴿٥﴾ نَارُ اللّٰهِ الْمُوقَدَةُ ﴿٦﴾ الَّتِي تَطَّلِعُ عَلَى الْأَفْـِٔدَةِ ﴿٧﴾
إِنَّهَا عَلَيْهِمْ مُّؤْصَدَةٌ ﴿٨﴾ فِي عَمَدٍ مُّمَدَّدَةٍ ﴿٩﴾

خامخا به اوغورځولے شی په حطمه کښ (٤)او څه پوهه درکړیده تاته چه څه شے دے حطمه (٥) اور دَ اللّٰه تعالیٰ دے چه بل کړے شویدے (٦) هغه به ورخیژی په زړونو باندے (٧) یقیناً دا اور په دوی باندے جوخت کړے شویدے دَ هر طرف نه (٨) په ستنو اوږدو کښ (٩)

دے دواړه طریقو سره کوی۔

[۲] په دے کښ دریم وصف دے او دا پشان دَ علت دے دَ ماقبل یعنی دَ وجے دَ محبت دَمال نه همز اولمزکوی ﴿وَعَدَّدَهُ﴾ یعنی دَ محبت دَ وجے نه ئے هروخت شماری دَ دے دَپاره چه کم نشی یادَ عُدَّة نه ماخوذ دے یعنی دَ حوادثو دَپاره ئے تیارکیږدی او هغه مال دفع کوؤنکے دَ مصائبو او دَ حوادثو ګڼړی۔

[۳] دا خلورم وصف دے اوپه دے کښ دوه توجیه دی یوښکاره ده یعنی دَ مال په محبت کښ دومره مشغول دے ګویاچه خیال کوی چه څه به دنیا کښ همیشه یم او اخرت نه یادوی۔ دویمه توجیه اشاره ده چه خلود دَ نعمتونو(یعنی جنت) خو په ایمان اوعمل صالح سره حاصلیږی او دَ دوی خیال دا دے چه په مالدارئے سره به جنت حاصل کړی، نسفی په تفسیر مدارك کښ اوشربینی په سراج المنیر کښ دا توجیه ذکر کړے ده۔

[٤،٥] داتخویف اخروی دے ﴿فِي الْحُطَمَةِ﴾ ډیرماتوؤنکے نودا نوم دَ جهنم دے۔ یا نوم دَ یوطبقے دَ جهنم دے هرکله چه همزه لمزه دَ حق پرستو عزتونه مات رامات کړی دی نودارنګ داحطمه به هم دَ دغه شخص هلاوکی مات رامات کړی۔

[٦،٧] دا تفسیر دَ حطمة دے ﴿الْمُوقَدَةُ﴾ چه اللّٰه تعالیٰ بل کړے دے نوځوك دَ هغے دَمړکولو وَس نه لری اوپه حدیث دَ ترمذی کښ وارد دی چه اوردَ جهنم زرکاله بل کړے شونو سور شوبیا زرکاله بل کړے شونو سپین شوبیا زرکاله بل کړے شونو تك تور شونو همیشه دَپاره به داسے وی ﴿الَّتِي تَطَّلِعُ﴾ یعنی ټول بدن به اوسیزی تردے پورے چه زړه ته اورسیږی۔ او دَ زړه تخصیص ئے په دے وجے سره اوکړوچه هغه محل دَ فاسدو عقیدو او دَ محبت دَ مال وو۔

[۸،۹] دا تاکید دَ ماقبل عذاب دے ﴿فِي عَمَدٍ﴾ یعنی دَ دے ستنے به وی پشان دَ پائپونو دَ بټے دَ اور او اوږدے به وی اوهغه به دَ هرطرف نه بندے وی۔

سُوْرَةُ الْفِيْل (۱۰۵) مَكِّيَّةٌ (۱۹) بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ اٰيَاتُهَا ۵ رُكُوْعَاتُهَا ۱

اَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِاَصْحٰبِ الْفِيْلِ ۝۱ اَلَمْ يَجْعَلْ كَيْدَهُمْ فِيْ تَضْلِيْلٍ ۝۲ وَّاَرْسَلَ عَلَيْهِمْ

ایا نه ګورے ته چه څنګه کار اوکړو رب ستا دَ هاتیانو والو سره (۱) ایا اونه ګرځوؤ ئے چل ول دَ هغوی بے کاره (۲) او را اولیږل ئے په هغوی باندے

سورة الفيل

ربط: دَ دے سورة دَ مخکښ سره په دوه وجوهو سره دے اوله وجه دا ده چه په هغه سورة کښ زجر اوتخویف اخروی وؤ مخالفینو دَپاره نوپه دے سورة کښ تخویف دنیوی دے دَپاره دَ هغوی۔ دویمه وجه دا ده چه په هغه سورة کښ مخالفت دَ حق نه په سبب دَ دنیا پرستئے سره ذکرشونو په دے سورة کښ مخالفت دَ حق نه په وجه دَ اقتدارِ دنیوی سره ذکرکوی۔

دعویٰ دَ سورة دا ده : چه په دیکښ تخویف دنیوی دے مخالفت کوؤنکو دَ حق ته په سبب دَاقتدار دنیوی سره۔ اونوم دَ اللّٰه تعالیٰ ئے (رب) ذکر کړے دے۔

خلاصه دَ سورة: اول عظمتِ شان دَ عذاب دَ اصحاب فیل دے په (۱) کښ اودَ هغوی دَمکربربادی په (۲) کښ ذکرکوی اوتفصیل دَ عذاب دَ هغوی په(۳،۴،۵) کښ دے۔

فائده: ذکردَ اصحاب فیل(چه دَ بیت اللّٰه دَ هدم اراده ئے کړے وه اوپه هغوی باندے عذاب الٰهی راغے) په طریقه دَ مثال اودَ عبرت سره دے یعنی هرهغه څوك چه دَبیت اللّٰه په باره کښ داسے اراده لری یا بله کعبه (قبله) جوړوی یا دَ بل کوم دینی مرکز سره دشمنی کوی او دَ هغے دَ خرابولو کوشش کوی نو عاقبت دَ هغوی هم عذاب دے خصوصاً هغه اقتداروالا چه خپل دَ باطل حکومت دَ بچاؤ او ترقئی دَپاره دَ دین حق دَ نړولویا دَ قرآن دَ مقابلے کولو کوشش کوی۔

تفسير

[۱] قصه دَ اصحاب الفیل مفسرینو په تفصیل سره لیکلے ده۔ مختصره داسے ده چه ابرهه بن الصباح ابویکسوم چه په الاشرم سره مشهور وؤ(په یوجنګ کښ دَ هغه پوزه اوخوله اومخ شلیدلے وؤ دَ دے وجے نه ورته اشرم وئیلے کیدلو) دَ یمن والی وؤ او نصرانی وؤ دَ حبشه دَبادشاه دَ خوشحاله کولو دَپاره (چه هغه هم نصرانی وؤ) په صنعاء یمن کښ یو دنګه بنګله جوړه کړه اوهغه کنیسه وه دَ دوی ۔اوخلقوبه هغے ته القلیس وئیلو دَ ډیردنګوالی دَ وجے نه ځکه چه چابه دَ هغے سرته کتل ټوپئے به ئے دَ سرنه غورځیدله او ابرهه اعلان اوکړوچه اځنده دپاره دے ځائے ته حج له راځئے اوّ کعبے له مه ځے یو روایت کښ راغلی دی چه دَ عربویوشخص لاړو اودَ غصے دَ وجے نه ئے په هغه کنیسه کښ اودس ماتے اوکړو اوبل روایت کښ راغلی دی چه دَ عربو بعضِ تاجران هغه وطن ته تجارت دَپاره تلی وؤنودَهغے کنیسے په خواکښ ئے اوربل کړو دَپاره دَ پخلی کولونو سیلئے راوالوتله اوهغه اور هغه کنیسے ته اورسیدلو نو هغه ئے اوسیزله نوابرهه په دے کار باندے سخت غصّه شو اوقسم ئے اوکړو چه ځه به کعبه نړوؤم په دے ارادے سره ئے هاتیان راروان کړل

طَيْرًا اَبَابِيْلَ ۙ﴿۳﴾ تَرْمِيْهِمْ بِحِجَارَةٍ مِّنْ سِجِّيْلٍ ۙ﴿۴﴾ فَجَعَلَهُمْ كَعَصْفٍ مَّاْكُوْلٍ ﴿۵﴾ ع

مارغان ډلے ډلے (۳) ویشتل ئے هغوی لره په کانړو د پاخه کړے شوؤ نه په اور کښ (٤) نو اوګرځول ئے هغوی پشانته د بوسو خوړلے شوؤ (٥)

او ډیرلښکر هم ورسره وؤ لیکن هرکله چه مزدلفے اومنیٰ په مینځ کښ وادی محسرته نزدے شول نو اللّٰه تعالیٰ په دوی باندے خطاطیف اوبلسان مارغان (چه هغوی ته توتکری وئیلے کیدے شی) را اولیږل چه د هغوی په پنجو او مخوکوکښ کانړی وؤ اودوی ئے په هغے باندے اوویشتل نو هغوی داسے هلاك شول چه بدنونه ئے ذرے ذرے اوبدبوینه شول اواکثر روایتونوکښ راغلی دی چه دا د نبیﷺ د پیدائش نه پنځوس ورځے وړاندے واقعه وه نودا د نبیﷺ د نبوت ډیاره ارهاص وؤ (هغه خرق عادت کارچه د نبی ډیاره مخکښ ډنبوت د هغه نه بنکاره شی) ﴿كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ﴾ کیف کښ اشاره ده دلیلونوته په کمالِ قدرت اوعلم د اللّٰه تعالیٰ سره اوپه شرافت د بیت اللّٰه تعالیٰ د دے وجے نه اول ئے دا فعل اجمالی ذکرکړو ﴿بِاَصْحٰبِ الْفِيْلِ﴾ الفیل اسم جنس دے یو هاتی وویا ډیرهاتیان ووښا په اختلاف د روایاتو سره۔

[۲] پدیکښ تفصیل د فعل دے ﴿كَيْدَهُمْ﴾ مکر اوتدبیر ډیاره د نړولو د کعبے او د ذلیل کولو د اهلِ مکه په هاتیانو راوستلو اوډیر لښکر راجمع کولو سره۔

[۳] دا عطف په طریقه د تفسیرد تضلیل دے۔

[٤] ﴿مَّاْكُوْلٍ﴾ هغه ګیا چه اوخوړلے شی (سوال) چه اوخوړلے شی نوهغه خوپه معده کښ غائب وی نو هغے سره خوتشبیه فائده نه لری؟ (جواب) مراد دا دے چه روستو د خوراك نه غوشیانو اوخاشنړو په شکل کښ را اوځی نو هغه بدبوینه او د یوبل نه ئے اجزاء جدا جدا وی لیکن په دے باندے تصریح کول په کلام فصیح اوبلیغ کښ مناسب نه وؤ د دے وجے نه د هغه نوم ئے ذکرنه کړو۔ نودارنګ د دوی بدنونه ټکړے ټکړے شول او بدبوینه مردار شول۔

سُوْرَةُ قُرَيْشٍ (۱۰۶) مَكِّيَّةٌ (۱۲۹) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۴ رُكُوْعَاتُهَا ۱

لِاِيْلٰفِ قُرَيْشٍ ۝۱ اٖلٰفِهِمْ رِحْلَةَ الشِّتَآءِ وَالصَّيْفِ ۝۲ فَلْيَعْبُدُوْا رَبَّ هٰذَا الْبَيْتِ ۝۳ الَّذِيْٓ اَطْعَمَهُمْ مِّنْ

تعجب پکار دے په مینه دَ قریشو(دَ دُنیا سره) (۱) مینه دَ هغوی دَ سفر دَ ژمی سره او دَ اوړی سره (۲) نو بندګی دے خاص کړی رب دَ دے کور لره (۳) هغه ذات چه خوراك ئے ورکړو دوی ته (چه بچ شی) دَ

سورة قریش

ربط: دَ دے سورة دَمخکښ سورة سره په خووجوسره دے اوله وجه دا ده چه په هغه سورة کښ تخویف دنیوی وو�ً دشمنانودَ بیت اللّٰه ته نو په دے سورة کښ دعوت دَ توحید دے دَپاره دَ اَدَاء شکر مجاورینو دَ بیت اللّٰه ته۔ دویمه وجه دا ده چه په مخکښ سورة کښ تخویف دنیوی وو�ً نو په دے سورة کښ زجردے۔

دعویٰ دَسورة: زجردے په محبت دَ دنیا اودعوت دے توحیدته اونوم دَاللّٰه تعالیٰ (رب) ذکردے اودوه صفتونه فعلیه ذکردی۔

خلاصه دَ سورة دا ده: اول زجردے په محبت دَ دنیا سره عموماً په (۱) کښ بیا په محبت دَ سفرونودَ دنیا دَپاره خصوصاً په (۲) کښ بیا دعوت دے توحید فی العبادة ته په (۳) کښ بیا ذکردَ دوه نعمتونودے په طریقه دَ دلیل دَ توحید سره په (٤) کښ۔

تفسیر

[۱] په دے کښ زجر دے قریشو ته په الفت کولو دَ دنیا سره غوره قول دا دے چه لام دَ تعجب دے یعنی تعجب اوکړئے په مینه کولودَ قریشوباندے دَ دنیا سره اوابن جریروئیلی دی چه دا قول حق اوصحیح دے، اوبنا په دے قول سره دا زجر دے قریشو ته په محبت دَ مال دَ دنیا باندے۔ قریش، دا قبیله اولاد دَ نضربن کنانه بن خزیمه بن مدرکه بن الیاس بن نضر ووٌ نوځوك چه دَ نضراولاد نه دی نوهغه قریش نه دی اوپه حدیث دَ امام بخاری کښ وارد دی چه رسول اللّٰهﷺ فرمائیلی دی چه یقیناً اللّٰه تعالیٰ غوره کړے وه کنانه دَ اولاد دَ اسماعیلؑ نه اوغوره کړے دے قریشو لره دَ اولاد دَ کنانه نه اوغوره کړی دی بنی هاشم دَقریش نه اوغوره کړے دے مالره دَ بنی هاشم نه نومعلومه شوه چه قریش نسب دَ دنیا دَټولونسبونونه اشرف اوافضل دے۔ (په شرط دَایمان سره)

[۲] دا تخصیص بعد التعمیم دے۔ امام مالکؒ نه نقل دی چه کال په دوه حصّوباندے تقسیم دے ژمے او اوړے اوربیع اوخریف پکښ عارضی دی هغے ته اعتبارنیشته﴿رِحْلَةَ الشِّتَآءِ﴾ دوی به په موسم دَ ژمی (سړئے) کښ یمن ته سفر کوؤ چه هغه گرم وطن ووٌ ﴿وَالصَّيْفِ﴾په موسم دَ اوړی کښ ئے شام ته سفرکولوچه هغه یخ وطن ووٌ اوپه دے سفرونوکښ یوغرض دا ووٌچه خلقوبه دَ دوی احترام اواکرام کوؤ دَدے وجے نه چه دَ اللّٰه تعالیٰ دَ کور مجاورین اولوئے نسب والادی نو دیرے تحفے اونذرانے به ئے ورکولے او دویم غرض تجارت کول ووٌ او دریم غرض دَ گرمئے اودَ یخنئے نه بچ کیدل وو۔

[۳] دا دعوت دے توحید فی العبادت اوترك دَ شرك کولوته ﴿فَلْيَعْبُدُوْا﴾ ظاهری عبادتونه په مشرکین

جُوْعٍ ۙ وَّاٰمَنَهُمْ مِّنْ خَوْفٍ ۝٤ ع

لوګے نه او امن ئے ورکړو دوی ته دَ یرے نه (٤)

عرب کښ وژمونځ، روژه دَ عاشورے، حج، عمره، طوافونه، په مال کښ دَ اللّٰه تعالیٰ دَ نوم حصّه مقررکول، صدقے کول، دیّت، قسامة قصاص اونور امورشرعیه چه په دے باندے دَ قرآن اوحدیث نصوص اوتاریخ دَ عرب شاهد دے لیکن ایمان اوتوحید پکښ نه وؤ نو مراد دَ عبادت نه دلته توحید دے ﴿رَبَّ هٰذَا الْبَيْتِ﴾ لفظ دَ رب کښ اشاره ده چه په دوی کښ توحید دَ ربوبیت (خالق اومدبرکنټرل) وؤ۔ او اضافت ئے بیت ته خاص اوکړو یو دَ دے وجے نه چه نعمت ته (چه سورة فیل کښ ذکرشو) اشاره ده چه دا کور اللّٰه تعالیٰ بچ ساتلے دے ستاسو دَ اصنامو(بتانو) پکښ هیڅ دخل نیشته۔

[٤] دا ذکر دَ دوه نعمتونو حاصلو دے په طریقه دَدلیلونو دَتوحید سره او دانعمتونه دَ دوی په محبت سره نه وؤ حاصل شوی بلکه په دعاء دَا براهیم علیه السلام سره دَ طرف دَ اللّٰه تعالیٰ نه وؤ۔ او په دے کښ په طریقه دَتعریض سره اشاره ده چه دعوت دَ توحید دَ نه منلوپه وجه سره اللّٰه تعالیٰ ستاسونه دانعمتونه اخلی لکه چه په سورة نحل (۱۱۲) کښ ذکردی نوقحط وربانده راغے په خیروکولودَ رسول اللّٰه ﷺ سره اوجنګونه وربانده شروع شول۔

فائده: ذکر دَ قریش په دے سورة کښ په طور دَ یونمونے سره دے اوداخل دی په دے کښ هغه اصحاب اقتدار اوعلماء اوپیران چه هغوی ذمه داران دَ دین ګرځولے شوی دی او نعمتونه (خوارك اوامن اوعزت) هغوی ته ورکړے شویدے اوبیائے هم دَ دنیا پرستئی او اقتدار دنیوی په حرص سره حق ته اوخصوصاً توحید سنت ته شاکړے ده اوحق پټوؤنکی دی که دوی توبه اونکړی نوپه دنیاکښ به عذاب دَ قحط اوغلبے دَ دشمن اوپه اخرت کښ به په عذاب الٰهی کښ اخته شی۔

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سُوْرَةُ الْمَاعُوْنِ (۱۰۷) مَكِّيَّةٌ (۱۰۷) | اٰيَاتُهَا ۷ رُكُوْعَاتُهَا ۱

اَرَءَيْتَ الَّذِىْ يُكَذِّبُ بِالدِّيْنِ ۝۱ فَذٰلِكَ الَّذِىْ يَدُعُّ الْيَتِيْمَ ۝۲ وَلَا يَحُضُّ عَلٰى طَعَامِ الْمِسْكِيْنِ ۝۳ فَوَيْلٌ

ایا خبر ئیے په هغه کس چه دروغژن ګڼړی دین لره (۱) نو دا خو هغه دے چه دیکے (تیلے) ورکوی یتیم لره (۲) او نه ورکوی تیزی په خوراك دَ مسکین باندے (۳) نو تباهی ده

سورة الماعون

اونورو نومونه ئیے سورة ارئیت اوسورة التکذیب هم دی۔

ربط: دَ دے سورة دَ مخکښ سره په څو وجوهوسره دے اوله وجه دا ده چه په مخکښ سورة کښ دعوت دَ عبادت ذکر کړے شونوپه دے سورة کښ جواب دَوهم دَمشرکانودے هغه دا دے چه مونږعبادت کوؤ(مونځ کوؤ،خیراتونه کوؤ)حاصل جواب دا دے چه دَتکذیب دَ دین دَ وجے نه دَ دوی دغه عبادات برباد دی۔ دویمه وجه دا ده چه په مخکښ سورة کښ زجروؤپه محبت دَ دنیاسره نوپه دے سورة کښ زجردے په هغه صفات قبیحه باندے چه دَمحبت دَ دنیانه پیداکیږی۔ دریمه وجه دا ده چه مخکښ زجروؤ خاص صفت والا دُشمنانو دَ دین ته نوپه دے سورة کښ عوامو مکذبینو دُشمنانوته زجردے۔

دعویٰ دَ سورة: زجردے په صفات قبیحه دَ مکذبینو سره۔

خلاصه دَ سورة دا ده: اول زجردے په تکذیب بالدین سره په (۱) کښ بیا تعریف دَ هغه دے په دوه صفتونو قبیحو سره په (۲،۳)کښ بیا جواب دَ وهم دے چه دا مکذب خو مونځ کوی په (٤) کښ بیا جواب دے دَ بل وهم چه دے خو صدقات کوی په(٥،٦) کښ، نو کل صفات قبیحه شپږدی۔

تفسیر

[۱] ﴿اَرَءَيْتَ﴾ یعنی مکذب بالدین تلبیس کوی او وائی چه څه خو دین منم لیکن تاسو (اے مؤمنانو) دین نه منئے (دَ اباؤ دَ طریقے خلاف یئ)نودَ دے تلبیس دَ زائله کولودَپاره اوئیلے شوچه ایا مکذب پیژنئے۔ نوکه نه ئیے پیژنئے نوراشه واوره ﴿بِالدِّيْنِ﴾ دا عام دے هرهغه چاته چه دا اوری۔

[۲] فا جزاء دَ شرط محذوف ده یعنی فان لم تعرفه ﴿فَذٰلِكَ الَّذِىْ يَدُعُّ﴾ دَعٌّ په زور سره دفع کول دی او مراد دَ دے نه منع کول دی حق دَ یتیم لره دَ هغهٔ مالونه خوړل په باطله طریقے سره په هغه باندے ظلم کول، هغه له میراث کښ حصه نه ورکول او دا ټول عادات دَ جاهلیت وؤ او دَ دے صفت حاصل دا دے چه دے ظالم دے۔

[۳] ﴿طَعَامِ الْمِسْكِيْنِ﴾ مشرکان طعام ورکوی منجورانو دَ خپل معبودانوته اوهغه لوئے ثواب ګڼړی او دَ اللّٰه تعالیٰ په نوم باندے مسکین ته طعام نه ورکوی بلکه بهانه کوی او دَ دے صفت حاصل دا چه دا بخیل دے۔

لِّلْمُصَلِّيْنَ ۝٤ الَّذِيْنَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُوْنَ ۝٥ الَّذِيْنَ هُمْ يُرَآءُوْنَ ۝٦ وَيَمْنَعُوْنَ الْمَاعُوْنَ ۝٧ ع ۴۲

مونځ والو لره (٤) هغه کسان چه دوی دَ مونځونو خپلو (دَ مقصد) نه نا خبره دی (٥) هغه کسان دی چه ځان خودنه کوی (په خپل عملونو سره) (٦) او منع کوی دَ فائدے څیز لره (٧)

[٤] دا جواب دَ سوال مقدّر (پټ) دے چه دوی خو مونځونه کوی نو وَلے دوی ته مکذب بالدین وئیلے شی؟ جواب دا چه دَ دهٗ مونځ سبب دَ هلاکت دے او دا مونځ سبب دَ مدح نه دے۔

[٥] دا سبب دَ ویل ذکر کوی ﴿سَاهُوْنَ﴾ غافل دی او دَ هغے مختلف طریقے دی بالکل پریخودل، دَ اول وخت نه روستو کول اودَ مستحب وخت نه همیشه روستو کول اودَ هغے دَ ارکانواوشرطونونه غافل کیدل اودارنګ دَ هغے دَحقیقت نه غفلت اوجهل کول لکه چه ایاك نعبد وایاك نستعین په قرائت دَمونځ کښ لولی اوبهر دَ مونځ نه غیرالله له بندګی کوی او مدد ترینه غواړی یعنی صرف په ژبه ئے لولی اوعمل پرے نه کوی۔ نوحاصل دَ دے صفت داچه جاهل او بیلمازه دے۔

[٦] دا هم سبب دَویل دے ﴿يُرَآءُوْنَ﴾ مراد دَ دے نه ریاء دَ مونځ ده چه دَ خلقو په مخکښ کوی اوچه غائب شی نونه کوی یا دَ خلقوپه مخکښ اوګد مونځ کوی اوچه غائب وی نوزر زرکوی یا مراد دَ دے نه ریاء ده په صدقاتو ورکولوکښ او داصفت دَ منافقینوهم دے۔ اوحاصل دَ دے صفت دا چه دے ریاکاردے۔ هاں دَ فرضو اداکول په عذر دَ ریاء سره پریخودل جائزنه دی بلکه دَ خپل نیت اصلاح دِ اوکړی او فرض دِ اداکړی او دا رنګ که یو شخص عمل خالص دَ اللّٰه تعالیٰ دَپاره کوی لیکن چه خلق ورباندے خبرشی نو دے په هغے باندے خوشحاله شی نو داریاء نه ده دارنګ حدیث ابن کثیرد ابولیلی په روایت سره نقل کړے دے۔

[٧] دا دلیل دے دَ دوی په ریاء کارئے باندے یعنی هرکله چه دوی ماعون منع کوی نو صدقه دَ اللّٰه تعالیٰ په نوم باندے څنګه اوکړی بلکه دَ ریاء دپاره صدقه کوی او دابل صفت قبیحه دے او دَدے حاصل دا دے چه دا انسان بے مروّت اوحرصناك دے ﴿الْمَاعُوْنَ﴾ قرطبی دَ دے دولس معانے ذکرکړی دی لیکن دا لفظ هغه ټولو ته شامل دے ځکه چه ماعون دَ معن نه دے لګ څیزته وئیلے شي یا دَ عون نه دے اسبابودَ مدد ته وئیلے شی۔ نوپه دے کښ اور، اوبه، تبر، مالګه، بوقه، ګلاس دَ ابو څښکلو دپاره، مطلق نیکی کول، زکوٰة، دعوت دَ حق، بیانول دَ قرآن دا ټول داخل دی۔

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سُوْرَةُ الْكَوْثَرِ مَكِّيَّةٌ (۱۰۸) (۱۵) — اٰيَاتُهَا ۳ رُكُوْعَاتُهَا ۱

إِنَّآ أَعْطَيْنٰكَ الْكَوْثَرَ ۝١ فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ ۝٢ إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ ۝٣

یقیناً درکړیدے مونږ تاته ډیر دَ فائدے څیز (۱) نو مونځ کوه خاص خپل رب لره او قربانی کوه (۲) یقیناً دُشمن ستا خاص هغه دے بے خیره (لنډے) (۳)

سورة الکوثر

او دَ دے بل نوم سورة النحر دے۔

ربط: دَ دے سورة دَ مخکښ سورة سره په څو وجوهو سره دے اوله وجه دا ده چه مخکښ سورة کښ په کومو اوصافو باندے زجروؤ نو په دے سورة کښ دَ هغے په ضد اوصافو باندے امر ورکوی۔ دویمه وجه دا ده چه په هغه سورة کښ مکذب بالدین ذکرشو اوهغه دُشمن دَ نبی ﷺ دے نو په دے سورة کښ دَ هغه دَ ابترکولو دَپاره امور ذکرکوی۔

دعویٰ دَ سورة: درے امور دَپاره دَ مغلوبیت دَ دُشمن دی او دَ اللّٰه تعالیٰ یو نوم (رب) اویوصفتِ فعلیه ذکرشوے دے۔

خلاصه دَ سورة: اولاً نعمت دَکوثرذکردے چه هغه قرآن دے په دنیاکښ اودَ هغے په سبب سره دَحوض کوثرنه څښکل حاصلیږی په اخرت کښ(اوپه دے کښ ضمناً امردے په بیانولودَ قرآن سره)بیا دوه اداب دی دپاره دَ دعوت کوؤنکی اوپه هغے کښ رد دَشرك په عبادت بدنیه اومالیه کښ ذکردے اوبیا نتیجه دَ دے ذکرکوی په مغلوبیت دَ دُشمنن سره چه دا بل نعمت دے۔

فائده :دَ دے نه تر سورة الناس پورے خطابات دی اهلِ قرآن ته او هغوی ته اداب ذکرکوی۔

تفسیر

[۱] په دیکښ په ظاهرکښ ذکردَ نعمت دے په نبی ﷺ باندے اوضمناً حکم دے په دعوت الی القرآن باندے یعنی انا اعطیناك الکوثرفبینه لِلنَّاسِ (نو بیان کړه دا خلقوته) نو حاصل دا دے چه په دنیا کښ کوثر قرآن او نبوت دے او په اخرت کښ کوثر حوض یا نهردے چاچه په دنیا کښ دَ قرآن نه خیر اوهدایت حاصل کړونو په اخرت کښ دَ هغه کوثرنه به سیرابی حاصلوی قاضی عیاض ؒ فرمائیلی دی چه احادیث دَ حوض صحیح دی او ایمان په دے باندے فرض دے او دا په نیز دَاهلِ السنة والجماعة په ظاهر باندے حمل دے تاویل پکښ نشی کیدلے۔

[۲] دا اداب دی دپاره دَ اهلِ قرآن ﴿فَصَلِّ﴾ په دے کښ صلوٰة خمسة او صلوٰة عید اوصلوٰة مزدلفه اوټول صلوات نفلیه داخل دی ﴿لِرَبِّكَ﴾ پدیکښ تعریض دے په مشرکانو باندے چه هغوی صلوٰة کوی یا اجزاء دَ صلوٰة (قیام، رکوع، سجده) کوی دپاره دَ معبودانوباطلو یعنی بتان، قبرونه، نمر اوسپوګمئے وغیره نوته دَ هغوی خلاف کوه ﴿وَانْحَرْ﴾ نحر دَ اوښانو، که په منیٰ کښ وی اوکه په نورو اوقاتو او مکانو نو کښ وی اوپه دے کښ هم دَ عطف دَ وجے نه لِرَبِّكَ مراد دے دپاره دَ رد په مشرکینو باندے چه هغوی هم

.....

نحراوذبح او نذر دَ غیر اللّٰه دپاره کوی او ذکردَ نحردَ اوښانو دے او مراد دَ دے نه ټول عباداتِ مالیه دی۔

[۳] دا نتیجه ده دپاره دَماقبل یعنی دَکوثر (دَ عمل اودعوت) په وجه او په اخلاص دَ عبادتِ بدنیه اومالیه په سبب ستا دُشمن به ابترشی ﴿شَانِئَكَ﴾ شنأن بُغض اوکینے ته وئیلے شی اونوم دَهغه ئیے نه دے ذکرکړے دے دپاره چه دا حکم هرهغه چاته شامل شی چه دا صفت پکښ موجود وی۔ اومراد دَ دے نه بغض کوؤنکے دَنبی ﷺ دَ ذات سره یا بغض کوؤنکے دَ هغه دَ هدایت سره دے چه قرآن اوسنت دے بلکه دَ هغه دَ ذات سره په اصل کښ هیڅا بغض نه دے کړے لیکن دَ هغه دَ دین سره ئیے بغض کړے دے ﴿هُوَ الْاَبْتَرُ﴾ په دے کښ اشاره ده چه ابتریت خاص دے په بغض کوؤنکی دَحق پورے او نبی ﷺ اواهل قرآن ابتر نه دی ځکه دَ دوی تابعداراودَ دوی شاګردان ترقرب دَ قیامت پورے به جاری وی اودَدوی ذکرخیریه کوی ﴿اَلْاَبْتَرُ﴾ بترپه لغت کښ پریکولوته وئیلے شی ابترپه انسانانوکښ لاولد (چه ځوئے نه وی) ته وائی اوپه ځارژوکښ بے لکئے ته وائی اوپه نورکارونوکښ بے خیره ته وائی لیکن په الف لام سره معرفه راوړلوکښ اشاره ده کمال بتردے اودا سزا ده دَهرهغه چاچه بغض کوی دَ هغے سره چه رسول اللّٰه ﷺ راوړی دی لکه ځوك چه په ایاتونودَ صفاتوکښ تاویلونه کوی اودارنګ کوم سلفی چه قرآن اوپه احادیثوسره استدلال کوی نودے ترینه نفرت کوی اودارنګ صوفیا چه غِنا ګانے اوری او رقص کوی اودَ قرآن اوریدلوته نه ټینګیږی اودارنګ ځوك چه خبرے دَ خلقو اونوروعلمونولره په قرآن اوحدیث باندے غوره والے اوفوقیت ورکوی (نودا ټول په ابترکښ داخل دی)۔

سُوْرَةُ الْكٰفِرُوْن (۱۰۹) مَكِّيَّةٌ (۱۸) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ٦ رُكُوْعَاتُهَا ١

قُلْ يٰٓاَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ ۙ﴿۱﴾ لَآ اَعْبُدُ مَا تَعْبُدُوْنَ ۙ﴿۲﴾ وَلَآ اَنْتُمْ عٰبِدُوْنَ مَآ اَعْبُدُ ۚ﴿۳﴾ وَلَآ اَنَا عَابِدٌ مَّا عَبَدْتُّمْ ۙ﴿۴﴾ وَلَآ اَنْتُمْ عٰبِدُوْنَ مَآ اَعْبُدُ ؕ﴿۵﴾ لَكُمْ دِيْنُكُمْ وَلِيَ دِيْنِ ۧ﴿۶﴾

ته اُوایه اے کافرانو (۱) څه بندګی نه کوؤم دَ هغه چا چه تاسو ئیے بندګی کوئے (۲) او نه تاسو بندګی کوؤنکی ئیے دَ هغه چاچه څه ئیے بندګی کوؤم (۳) او نه څه بندګی کوؤنکے یم په هغه طریقه چه تاسو بندګی کوئے (٤) او نه تاسو بندګی کوؤنکی ئیے په هغه طریقه چه څه بندګی کوؤم (٥) ستاسو دپاره ستاسو دین دے او زما دپاره زما دین دے (٦)

سورة الكافرون

او دیته سورة مقشقشه (براء ة کوؤنکے دَشرك نه) اوسورة العبادة اوسورة اخلاص هم وئیلے کیږی۔

ربط: دَ دے سورة دَ ماقبل سره په څو وجوهوسره دے اوله وجه دا ده په هغه سورة کښ دَ شأنی (دشمن) حال ئیے ذکرکړو نودلته دَ هغه نه براء ة ذکرکوی۔ دویمه وجه دا ده چه هلته په فصلّ لربّك وانحرسره توحید ذکرشونوپه دے سورة کښ براء ة دَ شرك نه ذکرکوی دپاره دَتکمیل دَتوحید۔دریمه وجه دا ده چه هلته ئیے دَ دشمن ابتریت ذکرکړو نو دلته دَ دشمنئے دَ اظهارطریقه ذکرکوی۔

دعویٰ دَ سورة: اظهاردے دَ براء ة دَ ټولو کافرانونه۔

خلاصه دَ سورة: امرپه اظهار دَ براء ة او دَ جدائیے دَکافرانونه په اعتبار دَ معبود او په اعتبار دَ طریقے دَ عبادت سره او اظهار دَ جدائیے دَ دینونو۔

تفسیر

[۱] ﴿قُلْ﴾ په دے امرکښ دلیل دے چه دا برائت فریضه ده دَ نبی ﷺ او دَ هغه دَ تابعدارانو ﴿يٰٓاَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ﴾ په اسم فاعل سره ئیے ذکرکړے دے اشاره ده چه برائت همیشه دَ هغه چاسره دے چه همیشه کافر وی۔ او الْكٰفِرُوْنَ، عام دے ټولو اقسامو دَ کافرانوته۔ یهودیان، نصاریٰ، مجوس، مشرکان، منکرین دَ خاتم النبیین، منکرین دَ قیامت، منکرین دَ اتباع رسول ﷺ منکرین دَ قرآن وغیره۔

[۲] ﴿اَعْبُدُ﴾ مراد دے نه ټول اقسام دَ عبادت دی قلبی، بدنی اومالی۔

[۳] دا نفی ده دَ جانب دَکافرانونه۔ (سوال) مشرکان خوبعضِ عبادتونه دَ اللّٰه تعالیٰ کوی لکه چه مخکښ ذکرشویدی نو دلته څه رنګه نفی دَمطلق عبادت ئیے دَ هغوی نه اوکړه ؟ (جواب) مراد دَ عبادت نه عبادت شرعیه دے چه هغه بنادے په توحید باندے او په هغوی کښ عبادت په طریقه دَ توحید سره نیشته۔ نوعبادت دَ دوی اللّٰه تعالیٰ لره کالعدم شو۔

[٤] دا په دویم کرت برائت دے دَ جانب دَ نبی ﷺ او دَ ټولو مؤحدینو دَ طرف نه په صیغه دَ اسم فاعل سره۔

[٥] دا نفی ده دَ طرف دَ مشرکینونه۔

سُورَةُ النَّصرِ (۱۱۰) مَدَنِيَّةٌ (۱۱۳) | بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۳ رُكُوْعَاتُهَا ۱

إِذَا جَآءَ نَصْرُ اللّٰهِ وَالْفَتْحُ ۝۱ وَرَاَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُوْنَ فِيْ دِيْنِ اللّٰهِ اَفْوَاجًا ۝۲ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ ؕ

کله چه راغے مدد دَ اللّٰه تعالیٰ او گټه (۱) او وینے ته خلقو لره چه داخلیږی په دین دَ اللّٰه تعالیٰ کښ ډلے ډلے (۲) نو پاکی وایه سره دَ ستائینے دَ رب ستانه او بخنه غواړه دَ هغه نه

(بقیه تفسیر دَ سورة الکافرون)

[٦] دا نتیجه دَ ماقبل ده لکه چه تقسیم اوکړے شی دَ یوځیزپه مینځ دَ دوه کسانوکښ اوبیا اوئیلے شی چه دا ستا حصه شوه اودا زما حصّه ده (سوال) طریقے دَ مشرکانو ته ئے ولے دین اوئیلو؟ (جواب) دا په اعتبار دَ زعم اوعقیدے دَ هغوی سره یادین په معنیٰ دَ جزاء دَ اعمالو سره دے۔

فائده: حاصل دَدے قول دا دے چه تمیزدَ دواړه ډلو(مؤمنان اومشرکان) اول په اعتبار دَمعبود سره دے چه معبود دَ مؤحدینو صرف اللّٰه تعالیٰ دے اومعبود دَ مشرکانو غیراللّٰه دے اودویم په اعتبار دَ کیفیت اوطریقے دَ عبادت سره دے یعنی طریقه دَ عبادت دَ مؤحدینو شرعی ده بنَا ده په وحی باندے او طریقه دَ عبادت دَمشرکانو بنا ده په اتباع دَ هویٰ اوظن او اتباع الأباء باندے او دا قول دَ ټولونه غوره دے۔

سورة النصر

اودیته سورة التودیع اوسورة اذاجاء هم وئیلے کیږی۔

ربط: دَ دے سورة دَ مخکښ سره په څووجوهوسره دے اوله وجه دا ده چه په مخکښ سورة کښ امر دَ برائت دَ مشرکینونه ذکرشونو په دے سورة کښ دغه برائت کوؤنکوته بشارت ذکرکوی۔ دویمه وجه دا ده چه په هغه سورة کښ حکم وؤ په طریقه دَ نفی سره اوپه دے سورةکښ حکم دے په صیغه دَ امر بالتَّسبیح والحَمد والاستِغفَار سره۔

دعویٰ دَ سورة :بشارت دنبیویه دے او دوه نومونه دَ اللّٰه تعالیٰ په کښ ذکر دی(اللّٰه، رب)او دعویٰ دَ توحید په(۳)کښ ده۔

خلاصه دَ سورة دا ده: چه اول بشارت په نصرت اوفتح سره دے په (۱) کښ بیا بشارت دے په ډیروالی دَ ملګرو سره په (۲) کښ بیا امر دے په تسبیح سرهٗ دَ حمدنه او په استغفار سره په طور دَ شکر دَ نعمتونوپه (۳) کښ۔

تفسیر

[۱] په دے ایت کښ بشارت دے په دوه ځیزونوسره ﴿نَصْرُ اللّٰهِ وَالْفَتْحُ﴾ په دواړوکښ فرق دا دے چه (نصر) نه مراد اسباب تیارول دی چه مکان وی او ملګری وی او اسلحه وی اونور ضروری سامان وی دَ ژوند تیرولو او دَ جهادکولو دَپاره، او (فتح) غلبه ده په دُشمن باندے او دَ دعوت اودَ جهاد دپاره بندے دروازے کولاویدل دی۔

إِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا ﴿٣﴾

یقیناً هغه ډیر قبلوؤنکے دے (۳)

[۲] په دے کښ دریم بشارت ذکردے یعنی په اول وخت کښ خلق په اسلام کښ لګ لګ داخلیدل لیکن روستو دَ نصرت اوفتح نه به ډلے ډلے داخلیږی او دَ فتح مکه نه روستو هم دغه شان اوشول۔

فائده: جواب دَ اِذَا پټ دے یعنی فَذَاكَ اَجَلُكَ اودا بنادے په حدیث دَ ابن عباس رضی اللّٰه عنهما چه امام بخاری روایت کړیدے چه دَ نوروصحابونه عمرﷺ دَ دے سورة په باره کښ تپوس اوکړو نوبعضو اوئیل چه په دے کښ مونږته امردے دَتسبیح اواستغفار روستو دَ نصرت اوفتح نه اوبعضِ چپ شول او ابن عباس رضی اللّٰه عنهما جواب ورکړوچه په دے سورة کښ اخباردَ اجل دَ رسول اللّٰهﷺ دے نوعمرﷺ اوئیل چه زما په علم کښ هم دا خبره وه۔ اوپه دے وجے سره دے سورة ته سورة التودیع وئیلے شویدے یعنی رخصت کیدل دَ رسول اللّٰهﷺ۔

[۳] په نیزدَعامومفسرینودا جواب دَ اِذَا دے یعنی دَ دغه نعمتونوپه شکرکولوکښ تسبیح او استغفار کوه۔ اودا هم په حقیقت کښ درے حکمونه دی په مقابله دَ درے انعاماتوکښ (تسبیح حمد اواستغفار) تسبیح تنزیه (پاکی) دَ اللّٰه تعالیٰ ده په هرهغه لفظ سره چه دلالت کوی په تنزیه باندے دَ هرقسم صفاتو دَ عیب او دَ نقصان نه، په عقیده کښ، او په ژبه باندے وئیل او نورو خلقوته دَ هغے دعوت ورکول لفظ دَفَسَبِّح دے ټولوته شامل دے او په دے کښ اشاره ده صفات سلبیه دَ اللّٰه تعالیٰ ته چه هغه په قرآن کریم کښ په اعتباردَ شمارکولوزما سره تقریباًپنځلس دی مثلاً شریك، مماثل، مشابه، ولد، والد، بنځه، بنت، عجز، جهل، غفلت، خوب، سترے والے، بخل، فنا، مرض وغیره دَ دے نقصاناتونه اللّٰه تعالیٰ پاك کنټرل دیته تسبیح وئیلے کیږی ﴿بِحَمْدِ رَبِّكَ﴾ دَحمد نه صفاتِ ثبوتیه دَ الوهیت مراد دی چه هغه اسماء حسنیٰ او صفات فعلیه دَ اللّٰه تعالیٰ په قرآن کریم کښ ډیر ذکردی اودا مجموعه کامل توحید دَ اللّٰه تعالیٰ دے ﴿وَاسْتَغْفِرْهُ﴾ (سوال) دا خطاب دے نبی ﷺ ته اوهغه خودَ هرقسم ګناهونونه پاك وؤنودَامردَ استغفارفائده څه ده؟(جواب په څوطریقوسره دے)غوره طریقه دا ده بلکه صحیح ده چه استغفارمستلزم دَ ارتکاب دَګناه نه دے بلکه دَ قصور دَ حق دے نو نبیﷺ سرهٔ دَ علودَ شان اوسرهٔ دَعصمت دَګناهونونه حق دَ بندګئے اودَ ثناء دَ اللّٰه تعالیٰ نشواداکولے ځکه چه اللّٰه تعالیٰ خوډیر اعلی اواکبراواجل دے۔

فائده: په صحیح حدیث کښ وارد دی چه نبی ﷺ روستو دَ نزول دَد ے سورة نه به په رکوع اوسجده کښ لوستل سبحانك اللهم ربنا وبحمدك اللهم اغفرلی۔ نو مونږ دَپاره هم پکاردی چه په رکوع اوسجده کښ داکلمات ډیرلولو۔ بل روایت کښ دی چه نبیﷺ روستودَ نزول دَ دے سورة نه هروخت اوپه کیناستلو او اودریدوکښ سبحانك اللّٰه وبحمدك لوستل ﴿إِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا﴾ (سوال) دَ استغفرهُ سره مناسب وؤ چه انّهٗ کان غفّاراً وئیلے شویوے؟ (اول جواب) اشاره ده چه استغفارهله فائده ورکوی چه توبه ورسره وی۔دویم جواب : دا دے چه تواب کښ اشاره ده انعام دَ استغفار ته یعنی په مغفرت غوختلو سره خو مغفرت کیږی(په مشیت دَ اللّٰه تعالیٰ سره) لیکن رحمتونه باربار کول نوپه هغے سره هم زیات انعام حاصلیږی۔

سُوْرَةُ اللَّهَبِ (۱۱۱) مَكِّيَّةٌ (۶) بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ اٰيَاتُهَا ۵ رُكُوْعَاتُهَا ۱

تَبَّتْ يَدَآ اَبِيْ لَهَبٍ وَّتَبَّ ۝۱ مَآ اَغْنٰى عَنْهُ مَالُهٗ وَمَا كَسَبَ ۝۲ سَيَصْلٰى نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ ۝۳ وَّامْرَاَتُهٗ ۭ

هلاك شول دواړه لاسونه دَ ابی لهب او هلاك شو (۱) فائده ورنكړه دهٗ ته مال دَ دهٗ او هغه څیز چه دهٗ كټلے وؤ (۲) زر دے چه ورننوځی به اور لمبو والا ته (۳) او ښځه دَ دهٗ

سورة اللهب

او دیته سورة مسد او سورة تَبَّت هم وئیلے شی۔

ربط: دَدے سورة دَ ماقبل سره په څو وجوهو سره دے اوله وجه دا ده چه مخكښ سورة كښ بشارتونه ذكرشول نو سوال راغے چه په مقابله كښ سخت دشمن شته چه هغه دَ دین نه منع كول كوی نو دغه بشارتونه پوره فائِده نه ورکوی نوپه دے سورة كښ بشارت دے په هلاكولودَ داسے دُشمن سره دَپاره دَ دے چه رُكاوټ دَ مخے نه زائل شی نوخلق به دَ اللّٰه تعالیٰ په دین كښ هله داخلیږی۔ دویمه وجه دا تخویف دے روستودَ بشارت نه لكه چه قرآن كريم كښ اكثر بشارت اوتخویف یوبل پسے ذكر كیدے شی۔

دعویٰ دَ سورة: تخویف دنیوی او اخروی دے په ذكر دَ ابولهب په طور دَ مثال سره۔

خلاصه دَ سورة: اول تخویف دنیوی دے په (۱) كښ بیا ذكردَ دے خبرے چه مال او اولاد سره دفع دَ عذاب نه كیږی په (۲) كښ بیا تخویف اخروی سړی اوښځے ته په (۳) كښ بیا ذكردَ ناكاره اعمالو اوحالاتو دَ هغه ښځے په (٤) كښ۔

تفسیر

[۱] ﴿تَبَّتْ﴾ دلته په معنیٰ دَ هلاكت اودَهرخیرنه خالی كیدل دی۔ اودا لفظ دُعاء (شر) ده ﴿يَدَآ﴾ دَ دے ذكرپه دے وجے سره دے چه هغه په دغه لاسونو سره په نبی ﷺ باندے دَكټوكذارونه كړی وؤ لكه چه په روایت دَ طارق المحاربی كښ دی چه روح المعانی اوتفسیرقرطبی كښ ذكركړے شویدے اوقاعده قرآن اوحدیث اوعربیت كښ داوه چه گناه دَ كوم اندام نه صادرشویوی نوهغے ته ئے نسبت كیږی اودَ دے ډیرمثالونه دی۔ روایت دَ صحیحین اودَ مسند احمد اوترمذی دا دے چه دَ ابن عباس رضی اللّٰه عنهما نه روایت دے چه هركله ایت دَ (وَاَنْذِرْ عَشِيْرَتَكَ الْاَقْرَبِيْنَ) نازل شونو نبی ﷺ صفا (غر) ته اوختلو اوازونه ئے كول اے بنی فهر بنی عدی (خاندانونه دَ قریشو) تردے پورے چه هغوی راجمع شول اوكه څوك په خپله نشوراتللے نوخپل قاصد ئے را اولیږوچه اوګوری چه څه چل دے اوابولهب اونورقریش راغلل نونبی ﷺ اوفرمائیل فكر اوكړئے كه چرے څه تاسوته خبردركړم چه سوارهٗ فوجیان دَ دشمن راروان دی په دے وادئ كښ اوپه تاسوباندے حمله كوی ایا تاسوبه زما خبره اومنئے نو ټولواُوئیل هاؤ، نه دی كړی مونږتجربے په تا باندے مگردَ رشتیا خبرو نو هغه اوفرمائیل څه تاسوله ویره درکوم (په بیان دَتوحید سره) مخكښ دَ راتللودَسخت عذاب نه نوابولهب ورته اوئیل تبالك سائِرَ اليَوم اَلِهٰذَا جمعتنا ﴿اَبِيْ لَهَبٍ﴾ دا اسم كنیت دے اواصلی نوم ئے عبد العزیٰ بن عبد المطلب وؤدَ رسول اللّٰه ﷺ خپل تره وؤ۔ دَاسم كنیت ذكركولودیرے

حَمَّالَةَ الْحَطَبِ ﴿۴﴾ فِيْ جِيْدِهَا حَبْلٌ مِّنْ مَّسَدٍ ﴿۵﴾ ع

چه را اوچتوؤنکے دَ خشاك ده (٤) په ستې دَ هغے کښ رسئے ده دَ پوستکی دَ کجورو (٥)

وجے دی اوله دا چه دے په دے نوم سره زیات مشهور وؤ۔ دویمه داچه دَ دهٗ مخ سور وؤدَلمبے دَ اوریشان۔ دریمه داچه اللّٰه تعالیٰ نه غواړی چه دَ شرك نوم (عبدالعزیٰ) دِ په قرآن کریم کښ ذکرشی(سوال)دَ نبی ﷺ په ژوندکښ خونورهم ډیرډُشمنان وؤنودَابولهب ذکرئیے دَځه وجے نه خاص اوکړو؟ اول جواب: دا دے چه سخت دشمن هغه وی چه دَ سړی په کارکښ رکاوټ اچوی نوابولهب به دَنبی ﷺ دعوت کښ په هرځائے کښ رکاوټ پیداکوؤلکه چه مخکښ ذکرشول۔دویم جواب: دا دے چه دَدهٗ په تخصیص کښ خاص صفتونوته اشاره ده چه هغه په دغه وخت کښ په نورودُشمنانوکښ موجودنه وؤیعنی قریشی، هاشمی، خائسته شکل والا، مالدر، ځامن اوښځه دَ دهٗ تابعدار، نواشاره ده چه اګرچه داسے صفتونه په یوانسان کښ وی اودَ دنیا والوپه نیزباندے ډیرعزتمند او اشرف وی لیکن هرکله چه دَنبی ﷺ نه مخالفت کوی نودَهغه عاقبت دَ دنیا او اخرت تباهی ده ﴿وَتَبَّ﴾ اول دَلاسونوهلاکت ذکرشونوپه دے لفظ سره دَ هغه دَ ټول بدن هلاکت ذکرشو۔ اوقصّه دَهلاکت دَهغه قرطبی ذکرکړے ده دَ ابورافع نه چه غلام وؤدَ عباس رضی اللّٰه عنه هغه وئیلی دی چه دَبدرد واقعے نه روستو(اوه شپے)په ابولهب باندے (عدسه) بیماری راغله چه هغے ته چیچك اوننکئے وئیلے شی نوپه هغے سره مړشواودرے ورځے پروت وؤځامنوهم نه دفن کوؤنوچه بدبوئی ئے اوکړه نوبیا ئے لرے اویشتلودَ دے ویرے نه چه عدسه بیماری مونږته متعدی نشی اودَ مکے معظمے بره طرف ته(دَبانډچیانوپه واسطه)ئے یوړلواویودیوال ته ئے اودَرولواوپه کانړوکښ ئے پټ کړو۔ (العیاذ باللّٰهِ تعالیٰ)

[۲] ﴿مَالُهٗ﴾ اشاره ده چه دے مالدار وؤ اواغناء دَ مال دوه قسمه وی یو داچه دَ مالدارئے (دَ صفت) دَ وجے دَ هغه لحاظ اوکړے شی دویم داچه مال په فدیه کښ ورکړی او دَ عذاب نه بچ شی دا دواړه قسمونه دلته نفی دی او ﴿كَسَبَ﴾ عام دے اولادته شامل دے ځکه چه په حدیث دَابوداؤد کښ راغلی دی چه ولد هم کسب دَ انسان دے۔ او دارنګه دَدهٗ مرتبه وجاهت اوتابعداران اوکیدونه په مخالفت دَ نبی ﷺ اوهغه مال چه دهٗ په تجارت وغیره سره ګټلے دے یا هغه عملونه چه دهٗ ګمان کوؤ چه داخائسته عملونه دی لکه چه منقول ده چه دهٗ دَ نبی ﷺ دَ ولادت په زیرے کښ خپله وینزه اژاده کړے وه نولفظ کسب دے ټولوته شامل دے۔

[۳] داتخویف اخروی دے۔

[٤] په دے کښ قباحت دَ حال دَ ښځے دَ ابولهب دے دَپاره دَ تکمیل دَ قباحت دَ ابولهب یعنی خاوند اوښځه دواړه په خبائث کښ یوشان وؤنوعذاب کښ به هم یوشان وی ﴿حَمَّالَةَ﴾ مبالغة ده دَحمل نه اوالحطب په حقیقت کښ خشاك اولرګوته وئیلے کیږی دلته مفسرینوډیراقوال نقل کړی دی حاصل ئے دا دے چه معنیٰ حقیقی مراد ده یامعنیٰ مجازی۔ چه معنیٰ حقیقی مراد شی نو په هغے کښ دوه قولونه دی اول قول چه ابن زید نه نقل دے چه دے ښځے به ازغی دار لرګی راوړل اودَ شپے به ئے دَ نبی ﷺ اودَ صحابو

په لاروکښ اچول ډپاره ډ دے چه دوی مسجد حرام ته نه راځی او که راځی چه تکلیف ورته اورسیږی او دا هم په دشمنئی کښ خسیس عمل دے۔ دویم قول دا دے اګرچه مالداره وه لیکن دومره بخیله وه چه ډ غرونونه به ئیے لرګی اوخشاك ډ کور ډپاره په خپل سر اوسټ باندے راوړلونودا ډدے نهایت بخل اوخساست ته اشاره ده ۔او چه معنیٰ مجازی مرادشی نوپه هغے کښ هم دوه اقوال دی اول قول دادے چه ډ خلقوپه مینځ کښ عموماً اودَ نبیﷺ اوصحابوپه مینځ کښ خصوصاً چغلی به ئیے کوله ډپاره ډ دے چه ډ دوی په مابین کښ فساد اوتفرق پیداشی او داهم ډ ذلیلانو عمل دے۔ دویم قول دا دے چه حطب کنایه ده ډ ګناهو نونه یعنی دے به ډیر قسمه ګناهونه کول کفراوشرك، چغلی اودَ نبی ﷺ هجو(بدی وئیل) به ئیے کوله او ډ محمد په ځائے باندے به ئیے مُذَمَّم وئیلو۔

[۵] دا هم ډ هغه بدځے ناکاره حال دے یا په دنیا کښ یا په اخرت کښ هرچه په دنیاکښ دے نوپه دے کښ درے قولونه دی اول داچه دا صورت ډ خشاك ډ ګیډی راوړلودے یعنی خشاك به ئیے داسے راوړلوچه رسئی به ئیے ډ مزدورانو پشان خپلے غاړے ته اچولے وه اوګیډے به ئیے شاته راړولے وؤ۔ دویم قول دا دے هرکله چه دے ډ ازغوګیډی راوړل نویو وخت ډډ ے مرئے ته رسئ ډ ګیډی ارمه شوه نوداپه هغے سره پانسی شوه آومړه شوه۔ دریم قول دا دے چه ډ هغے په غاړه باندے ډ مرو اوکنجکو امیل وؤ لکه چه په دے وخت کښ اکثربدعتیانو اوملنګانو خپلو غاړوته اچولے وی۔ اوهرچه په اخرت کښ دے نومسدکنایه ده ډ زنځیرډ جهنم نه چه ډ دے سټ ته به پروت وی نو دا تخویف اخروی دے ﴿مَسَدٍ﴾ په لغت کښ هغه رسئے ده چه ډ پټو ډ کجورونه کلکه اودلے شویوی شلیدل ئیے ګران وی اوپه هغے سره مرئے هم پانسی کیدے شی۔

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سُوْرَةُ الإخلاص (۱۱۲) مَكِّيَّةٌ (۲۲) | اٰيَاتُهَا ۴ رُكُوْعَاتُهَا ۱

قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ ۝۱ اَللّٰهُ الصَّمَدُ ۝۲ لَمْ يَلِدْ ۙ وَلَمْ يُوْلَدْ ۝۳ وَلَمْ يَكُنْ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ ۝۴

ته اُوایه هغه اللّٰه تعالیٰ یك یو دے (۱) اللّٰه تعالیٰ بے حاجته دے (۲) نه دے ولد والا دے اونه دے پیدا کړے شویدے (۳) او نیشته دهٔ لره هم صفت هیڅوك (٤)

سورة اخلاص

اوخطیب شربینی اومفسر الوسی دَ دے سورة دوویشت نومونه لیکلی دی۔

ربط: دَ دے سورة دَ ماقبل سره په ځلورو وجوهوسره دے اوله وجه دا ده چه مخکښ سورة کښ عذاب دنیوی او اخروی ذکرکړے شونو په دے سورة کښ دَ هغے نه دَ بچ کیدلو دپاره سبب ذکرکوی چه توحید خالص دے۔ دویمه وجه دا ده چه په هغه سورة کښ لوئے انعام په مؤمنانو باندے ذکرکړے شوچه هغه اهلاك دَ لوئے دشمن وو او زائل کول دَ رکاوټ وونو په دے سورة کښ دَ هغه انعام شکریه ذکرکوی چه هغه دعوت ورکول دی توحید خالص ته۔ دریمه وجه دا ده چه په هغه سورة کښ هلاکت دَ ابولهب او دَ هغه دَ ښځے ذکرشو نو په دے سورة کښ اشاره ده سبب دَ هلاکت ته چه انکار دے دَ توحید نه۔ ځلورمه وجه دا ده چه په مخکښ ټولوسورتونوکښ بے شماره علوم اواحکام الٰهیه ذکرشویدی نو په دے سورة کښ دَ هغه ټولو خلاصه او بنیاد ذکرکوی چه هغه توحید خالص دے نو اشاره ده چه دا دَ قرآن کریم دَ نزول لوئے مقصد دے۔

دعویٰ دَ سورة: اثبات دَ توحید دَ ذات او دَ صفاتو دے سرهٔ دَ تنزیه دَ اللّٰه تعالیٰ دَ عیبونو اونقصاناتونه۔

خلاصه دَ سورة: په اول ایت کښ توحید دَ ذات اوخالقیت دے اوپه دویم کښ توحید دَصفاتِ ثبوتیه دے اوپه دریم اوخلورم ایت کښ توحید دَ صفاتِ سلبیه دے او دا کافی دے دَپاره دَ معرفت دَ اللّٰه تعالیٰ دَ دے وجے نه دے ته سورة المعرفة وئیلے شوے دے۔

تفسیر

[۱] په مسند احمد کښ حدیث دَ ابیٔ بن کعبؓ نه روایت دے چه مشرکانو دَ نبیﷺ نه تپوس کړے وؤ چه مونږ ته دَ خپل رب نسب بیان کړه اوبل روایت کښ دی چه دَ خپل رب صفات مونږ ته ذکرکړه نو دا سورة دَ هغوی په جواب کښ نازل شو۔ او په قُل راوړلو کښ دا فائِده ابن قیم ذکرکړے ده چه دا اخبار دَ اللّٰه تعالیٰ دے دَ خپل توحید نه یعنی اللّٰه تعالیٰ فرمائی چه زما توحید په دے طریقے سره بیان کړئے۔ ﴿هُوَ﴾ غوره قول دا دے چه هرکله دا سورة نازل شویدے په جواب دَ مشرکانو کښ لکه چه مخکښ ذکرکړے شوه نو ضمیر دَ هُوَ هغه ذات ته راجع دے چه دوی دَ هغه په باره کښ تپوس کړے وؤ ﴿اللّٰهُ﴾ دا علم دے دپاره دَ ذات دَ اللّٰه اودَ دے نه سیوا نور نومونه دَ اللّٰه تعالیٰ چه ثابت دی په شرع کښ نو هغه صفتی نومونه دی اگرچه هغه هم خاص دی په اللّٰه تعالیٰ پورے لیکن دَ علم خصوصیت په ذات پورے ضروری او پیرښکاره وی اوپه مقام دَ تعریف دَ ذات کښ دَ علم ذکرکول ضروری دی دَ دے وجے دلته ئے په دے لفظ

باندے تصریح او کړه ﴿اَحَدٌ﴾ استعمال دَدے مطلق په طریقه دَ وصفیت سره خاص دے په اللّٰه تعالیٰ پورے لکه په دے مقام کښ او فرق په مینځ دَ احد او واحد کښ په ډیروطریقو سره دے۔ اوله طریقه دا ده چه په احد باندے عدد ابتدائی نه بناکیږی په خلاف دَ واحد نه نو داسے نشی وئیلے چه احد، اثنان، ثُلثه بلکه داسے وئیلے شی واحد، اثنان ، او دویمه طریقه دا ده چه احد په وخت دَ وصفیت مطلقه کښ په اللّٰه تعالیٰ پورے خاص دے په خلاف دَ لفظ دَ واحد سره نوداسے نشی وئیلے کیدے چه رجلٌ احدٌ اوداسے وئیلے کیږی رجل واحد۔

فائِده: په دے ایت کښ اثبات دَتوحید دَ خالقیت دے او رد دے په ټولواقسامو دَ دهریانو باندے په احسن ترتیب سره هغه دا دے چه بعضِ دَ فرقو گمراهانونه وائی چه دَ دے عالم دَپاره سبب دَ ایجاد نیشته اودا ټول څیزونه پخپله پیداشویدی اوپیدا کیږی او دے ډلے ته په مخکنے فلسفه کښ اصحاب طفرة وئیلے کیږی نو په لفظ دَ هُوَ کښ دَ دے نظرئیے تردید دے ځکه چه یوسبب دَا ایجاد دَ څیزونو اودَ کارونو په ټولوذهنونو او زړونو کښ شته دے څوك ئیے طوعاً منی اوڅوك ئیے کرهاً منی۔ نوپه لفظ دَهُوَ سره دغه ذات ته اشاره ده چه هغه وجود ورکوؤنکے دے ټولوموجوداتو ته ۔ اوپه کلمه دَ اللّٰهُ کښ تردید دے دَ هغه چاچه مؤجد منی لیکن هغوی سبب دَ ایجاد اودَ خلق ماده گنړی یا طبیعت یا هیولیٰ گنړی یا دهرته یا حرکت دَ فلك ته نسبت کوی۔ یعنی هغه ذات چه هغه خالق اوموجِد دے نو دَ هغه نوم اللّٰه تعالیٰ دے او په لفظ دَ احدٌ کښ رد دے په هغه ډلو اونظریو باندے چه دَ اللّٰه تعالیٰ سره په خلق او ایجاد کښ بل څوك شریك گنړی لکه چه بعضِ حکماؤ (په حقیقت کښ بے عقله دی) وئیلی دی چه اللّٰه تعالیٰ خو صِرف عقلِ اول پیدا کړے دے ځکه چه هغه یودے او دَ یونه یوکار صادریدلے شی او دوی وائی چه عقل اول دویم عقل اوفلكِ اول پیداکړو تردے پورے چه عقل فعّال ټول څیزونه پیداکوؤنکے دے او دا اوهام باطله کفریه دی اودَ مجوسو عقیده ده چه دَ خیر او دَ نورپیدا کوؤنکے یزدان (اللّٰه) دے اودَ شراوظلماتو پیدا کوؤنکے اَهرَمَن (شیطان) دے اودَ بعضِ معتزلونظریه ده چه اللّٰه تعالیٰ خوخالق دَ خپلو کارونو دے اوخالق دے دَ بنده دَ هغه کارونو چه دَ بنده په اختیارکښ نه وی او بنده خوخالق دے دَ خپلو اختیاری کارونونو دَ دے ټولو عقیدو تردید دے په کلمه دَ احدٌ سره۔

[۲] په دے کښ اثبات دَ توحید دَ صفات ثبوتیه دَ اللّٰه تعالیٰ دے او تردید دے دَ هغه چاچه عقیده لری چه اللّٰه تعالیٰ خو خالق دَ هرڅیز دے لیکن ټول حاجتونه نشی پوره کولے یا په دے صفت دَ خَلق کښ معاون اوملگری ته محتاج دے نو دَ دے وهم ازاله ئیے اوکړه په دے جمله سره چه﴿اَللّٰهُ الصَّمَدُ﴾اوپه معنیٰ دَ الصّمد کښ دَ مفسرینو ډیر اقوال دی اول ابن الانباری وئیلی دی چه خلاف نیشته چه صمد هغه سیّد ته وئیلے شی چه دَ هغه نه اوچت بل څوك نه وی اوټول مخلوق هغه ته په خپلو حاجتونو اوسوالونوکښ قصدکوی۔دویم قول دَ ابوهریره ﷺ نه روایت دے چه هغه مستغنی دے هرچانه او هغه ته هرڅیز محتاج دے۔ ابن کثیر دَ طبرانی نه نقل کړیدے چه دا اقوال ټول صحیح دی او دَرب العالمین دی اودا ټول اقوال دوه صفتونوته راجع دی یو داچه غنی مطلق دے یعنی بے حاجته دے او دویم داچه هرڅیز په خپلو حاجتونو کښ هغه ته قصدکوی او قصد عام دے که قصد طبعی وی او که اختیاری وی۔

[۳] په دے کښ توحید دَ صفاتِ سلبیه ذکر کوی یعنی ټولوعیبونونه پاك دے ځکه چه هغه عیبونه چه دَ الوهیت سره منافی دی یوحاجت دویم تبعیض او تجزی ده دریم تشبیه اوتمثیل دے نو په دے راتلونکو جملو کښ دَدے ټولو نفی ده اوپه دے ایت کښ تردید دے دَ هغه مشرکانوچه اللّٰه تعالیٰ لره دَ لونړویا دَ ځامنو عقیده لری که کتابیان دی اوکه غیر کتابیان دی۔ او رد دے په هغه چاچه وائی چه داصحیح ده چه اللّٰه تعالیٰ ټول حاجتونه پوره کوؤنکے دے او بے حاجته دے لیکن دَ هغه نائبان شته او دَ هغه دَ صفتونو مظهر شته دے هغوی ته ئے دَ بعضِ کارونوحاجت روائی سپارلے ده نومونږ ځکه هغوی ته خپل بعضِ حاجتونه پیش کوؤ نو دَ دغسے خلقو په جواب کښ اوئیلے شو چه ﴿لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُوْلَدْ﴾ (سوال) هیڅوك دَ اللّٰه دَ مولودیت قائل نیشته زمونږ په علم کښ نو دَ دے نفی کولوڅه فائده ده؟ اول جواب: کیدے شی چه په عالم کښ داسے عقیده دَ چاوی چه اللّٰه تعالیٰ مولود دے دَ وجے دَ قیاس کولونه په خپلو معبودانو باندے چه هغه مولود یا مجعول اومصنوع دی (اگرچه زمونږ په علم کښ نه وی) نو دَ دے قیاس تردید کول ضروری دی۔ دویم جواب په باب دَ اثبات دَ توحید کښ دَ ټولواحتمالاتو شرکیونفی ضروری ده برابره خبره ده که ځوك دَ هغے قائل وی اوکه نه وی۔ دریم جواب لکه څنګه چه ولد په دوه قسمه سره نفی شوحقیقی اوحکمی نو دارنګ والد هم دوه قسمه دے حقیقی هغه منتفی دے اوحکمی هغه هم منتفی دے مراد دَ والد حکمی نه هغه ځوك دے چه هغه زور آور وی په اللّٰه تعالیٰ باندے او اللّٰه تعالیٰ هغه ته محتاج وی لکه چه دَ مشرکانو عقیده دَ شفاعت قهریه(بلا اذن) دے عقیدے لره مستلزم ده اوپه دے معنیٰ سره نفی دَ ولی ئے په سورة اسراء (۱۱۱) کښ کړے ده۔

[٤] ﴿كُفُوًا﴾ دا لفظ عام دے مشابه، مساوی، مماثل، مجانس، معادل، نظیردا دَ ټولو په معنیٰ باندے راځی دَ دے وجے نه دا لفظ ئے ذکرکړو دَپاره دَ دے چه دَ دے ټولو نفی اوکړیشی یعنی په جنس، نوع اوفصل اوپه هیڅ صفت او صورة وشکل کښ کفاءة نیشته ﴿اَحَدٌ﴾ اهل لغتو وئیلی دی چه احد لفظ په ذوی الروح او ذوی العقولو کښ استعمالیږی یعنی هیڅ نبی او ولی اوملك اوجنی اوبشرَ اللّٰه تعالیٰ دپاره کفو نشی کیدے نوبُتان اوغیرذوی الروح خوپه اولے طریقے سره کفونشی کیدے۔

سُوْرَةُ الفَلَق (۱۱۳) مَكِّيَّةٌ (۲۰) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۵ رُكُوْعَاتُهَا ۱

قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ ۙ﴿۱﴾ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ ۙ﴿۲﴾ وَمِنْ شَرِّ غَاسِقٍ اِذَا وَقَبَ ۙ﴿۳﴾ وَمِنْ شَرِّ النَّفّٰثٰتِ

ته اُوایه پناهی غواړم په رب د بنکاره کولو سره (۱) د شر د هغه څیز نه چه پیدا کړیدے هغه (۲) او د شر د تیرے والا نه هرکله چه تیرے را اوغورۍ (۳) او د شر د پوکو کوونکو نه

سورة الفلق

دیته سره د روستو سورة نه المعوذتین او المقشقشتین هم وئیلے شی۔

ربط: د دے سورة د ماقبل سره په دوه وجوهوسره دے اوله وجه داده چه هرکله قرآن کریم اخرته رسیدونکے دے او په دے کښ پوره هدایت دے خصوصاً توحید دے او د هغے دشمنان ډیردی چه د توحید او قرآن نشر واشاعت نه غواړی او دارنګ د دے دپاره رکاوټونه دی چه هغه مانع ګرځی د قرآن نه نو په دے دواړو سورتونوکښ د هغے د حفاظت دپاره طریقه ذکرکړے ده۔ دویمه وجه دا ده چه په سورة اخلاص کښ شان د اللّٰه تعالیٰ ذکرشونو په دے سورتونوکښ اشاره کوی چه دغه ذات الٰهی د هرشر اوتکلیف نه د پناهئ ورکولو دپاره کافی دے بل هیڅوك د هر مصیبت نه پناهی نشی ورکولے۔

دعویٰ د دے سورة: امردے په تعوذ سره د شرورونه عموماً او خصوصاً۔

خلاصه د دے سورة داده: چه اول امردے په تعوذ سرهٗ د مستعاذبه ذکرکولونه په (۱) کښ بیا ذکر د مستعاذ منه دے په طریقه د عموم سره په (۲) کښ بیا ذکرد درے خاص اقساموذ شر دے په درے اياتونوکښ۔

تفسیر

[۱] ﴿قُلْ﴾ په لفظ د قُلْ کښ اول خطاب دے نبی ﷺ ته او امت خو تابع دے نو اشاره شوه چه نبی ﷺ هم په حفاظت او تعوذ کښ اللّٰه تعالیٰ ته محتاج دے ﴿اَعُوْذُ﴾ دا لفظ صریح دے په استعاذه کښ د لفظ د استعیذ نه څکه چه په استعیذ کښ اخبار دے په طلب کولوسره چه سین د باب استفعال په هغے باندے دلالت کوی او په لفظ د اعوذ کښ خو عمل کول دی په امرد استعاذے باندے ﴿بِرَبِّ الْفَلَقِ﴾ الْفَلَقِ په اصل کښ سیرے کول، شلول او راویستل اوبنکاره کولوته وئیلے کیږی لکه چینے د غرونونه راویستل اوبارانونه د وریځو اوبوتی د زمکے نه اوبچی د ارحاموذ میندونه او رنړا د صبا د تیرو د شپے نه او تیغونه د دانو او د هلوکو نه په دے معنے سره فلق ټولوموجوداتوته شامل دے د دے وجے نه ابن جریر د ابن عباس رضی اللّٰه عنهما نه روایت راوړے دے چه فلق څلق ته وئیلے کیږی او قرآن کریم کښ ئے په دوه څیزونو باندے اطلاق کړے شوے دے یو په تیغونو چه د دانو او هلوکونه رااوباسی سورة انعام (۹۵) کښ او دویم په رنړا د صبا چه د تیرو د شپے نه ئے را اوباسی لکه په سورة انعام (۹۶) کښ۔ نومعنیٰ د رب الفلق داده رب د راویستلو اوبنکاره کولو د څیزونو او رب د رنړا د صبا او رب د تیغونو اوبوتو او د ونوراتو کولو، اوتفصیل د مسئلے د تعویذونو په تفسیر کښ لیکلے شویدے۔

فِي الْعُقَدِ ﴿٤﴾ وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ ﴿٥﴾

په غوټو کښ (٤) او د شر د حسد کوؤنکی نه کله چه حسد بنکاره کړی (٥)

[۲] په دے کښ ذکر د عام مستعاذمنه دے اوشړپه اصل کښ عاقبتِ سیئه دے یا هرهغه څیز چه عاقبت د هغے ناکاره وی نو دلته هم د شرنه مراد هرهغه څیز دے چه قرآن والا لره او داعی د توحید لره د هغه د مقصدنه اړوی ﴿مَاخَلَقَ﴾ مراد د ماخلق نه عام دے که نفوس اوذوات وی، اوصاف وی اوکه اخلاق وی، اعمال وی اوکه احوال وی۔ اود هغه څیزونوذکرپه دُعاکانو دَاستعاذه کښ په کثرت سره موجود دے۔

[۳] دا مستعاذمنه خاص دے او دابنکاره ضد دے د فلق څخه چه فلق کښ معنیٰ د ظهور ده او په غسق کښ معنیٰ د ظلمت او د پټ والی ده او په غاسقٍ کښ دِیر اقوال دی لیکن مشهور دا دے چه غسق ډکوالی ته وائی نو غاسق شپے ته وئیلے کیږی چه د تیرے نه ډکه شی ﴿إِذَا وَقَبَ﴾ وقوب داخلیدل په یو څیزکښ اوغائب کیدل دی نو وقوب د شپے دادے چه تیاره د دے په هر څیز کښ داخله شی نومراد دے نه مینځ د شپے دے یا اول ماښام دے او وجه د تعوذ د شر د تیرے نه دا ده چه په شپه کښ زهریلی څناورد خپلو سوړونه اوغارونونه را اوځی او شریان بدمعاشان د خپلو کورونونه را بهرشی او غلاکوؤنکی د غلا کوشش کوی اوپه حدیث سره ثابت ده چه هرکله نمرغائب شی نو پیریان راخواره شی نو تاسو خپل بچی د ځان سره یوځائے کړئے اوځاروی هم راجمع کړئے تردے پورے چه اوله حصه د ماسخوتن تیره شی۔ اوهرکله چه دا عوارض اهلِ قرآن ته پیښ شی نوهغه د مقصدنه محرومه شی د دے وجے د دے نه تعوذ غوښتل ضروری دی۔

[٤] دا هم خاص مستعاذمنه دے اوداشرد جادو د منترو اودَکوډو تعویذونو کولو دے او د دے ظلمت اثرپه عقل اوپه دماغو باندے پریوځی نود دے هم د فلق سره زیاته مقابله او تضاد دے ﴿النَّفّٰثٰتِ﴾ نفث پوکے کول سرهٔ د لږو لاړو توکلونه۔ دم کوؤنکی د خیر یاشر اوجادو کوؤنکی په وخت د پوکی کولو کښ ضرور نفث کوی ﴿فِي الْعُقَدِ﴾ جمع د عقدة ده غوټے دَتار او د مزی او د کپړے ته وئیلے کیږی د جادوګرو عادت داوی چه د سحر کلمات وائی،او تارله غوټه ورکوی او په هغے باندے نفث کوی او هغے ته بندونه هم وئیلے کیږی د دے تشبیه د وجے نه هر بند غارے ته اچول مکروهه دی ځکه چه د بندونو جوړولو اګرچه رقیه صحیحه وی خو دلیل شرعی ئے نیشته دے۔ او د لفظ د شرنه معلومه شوه چه د سِحر دَپاره تاثیر شته دے په اذن د اللّٰه تعالیٰ سره اګرچه کار د ګمراهئی دے لکه چه سورة بقره (۱۰۲) کښ تیرشویدی او دارنګ واقعه د ساحرانو دَفرعون هم دلالت کوی لکه په سورة اعراف (۱۱٦) کښ ذکر دی اودا مسلك د اهل حق دے۔ اود دے شر تخصیص ئے په دے وجے سره اوکړو چه ساحرپه سحرکولو سره د چاڑپه بنده کړی د چا نظر بندکړی د چاعقل باندے تاثیراوکړی نومجنون شی نو قرآن والو لره دَدے شرنه حفاظت اوتعوذ ډیرضروری دے۔

فائِده: په صحیح بخاری کښ د هشام بن عروة عن ابیه عن عائشه رضی اللّٰه عنها نه تفصیلی روایت ذکردے حاصل ئے دا دے چه لبید بن الاعصم چه سړے وؤ د بنی زریق نه یهودی یا منافق وؤ د خپلو لونړو په ملګرتیا سره ئے په نبی ﷺ باندے جادو کړے وؤ۔ په نبی ﷺ باندے یودا اثر شویوؤ چه خیال به ئے کوؤ چه

مافلانے کارکړے دے او هغه به ئے نه وؤکړے (په باره دَ دنیوی کارونو کښ) بل دا اثر وؤ چه خیال به ئے کوؤ چه ما ییبیانوته راتلل کړی دی او راتلل به ئے نه وؤ کړی بیا اللّٰه تعالیٰ دَ ملائکو په واسطه سره هغه له خبر ورکړو او هغه سحر ئے دَ کوهی نه را ویستلواو غوټے دَ هغے ئے پرانستلے اوبیا ئے دفن کړو دَپاره دَ دے چه خورنشي۔ نو دَ هغے باره کښ دا دوه سورتونه نازل شوی دی (بخاری دا حدیث په خپل کتاب کښ په کتاب الطب او کتاب الادب او کتاب الدعوات او کتاب بدء الخلق او کتاب الجزیه کښ په مختلف عباراتو سره راوړے دے اومطلب ئے یودے) سوال: دَ دے حدیث نه خولازمیږی چه نبی ﷺ مسحور وؤ او قرآن کریم کښ سورة اسراء (٤٧) او سورة فرقان(٨) کښ فرمائیلی دی چه دا قول دَکافرانودے؟ اول جواب: دا دے چه دا قول دَکافرانوخوپه مکه کښ وؤ او واقعه دَ سحرخو په مدینه کښ شویده۔ دویم جواب: معنیٰ دَمسحوردا ده چه دهٗ ته سحرخودلے شویدے یعنی دوی وحي ته سحر وئیل۔ دریم جواب : مسحور هغه څوك دے چه دَ هغه دَپاره سَحر (تریخے) وی یعنی خوراك اوڅښاك کوی بشروی۔ څلورم جواب: دا دے چه مسحور هغه څوك وی چه سحر ورباندے اثرکړے وی چه قوّة عاقله ئے برباد شوے وی نو مجنون وی او خبرے ئے گلهے وړے وی او په واقعه دَ سحر دَ نبی ﷺ کښ صرف په قوّة خیالی دَ هغه باندے اثرشوے وؤ دَ هغه په عقل او زړه اوعقیده باندے هیڅ اثرنه وؤشوے دلیل په هغے باندے الفاظ دَ حدیث دَ بخاری دی چه یُخَیَّلُ اِلَیْهِ اَنَّهٗ فَعَلَ الشَّیءَ دا جواب قاضی عیاض غوره کړے دے۔

[٥] دا هم خاص مستعاذمنه دے اودَ دے مناسبت دَسحرسره په څو وجوهو سره دے اوله دا چه دواړه (سحر اوحسد) مشترك دی په دے خبره کښ چه دَشیاطین الجن والانس نه صادریږی۔ دویم داچه دا دواړه مرضونه سحراوحسد په یهودیانو کښ ډیروو۔دریم داچه حسد اثردَ خبث دَنفس دے او سحر حاصلیږی په مدد دَ ارواح خبیثه شیطانیه سره ﴿حَاسِدٍ﴾حسد بغض دَ نعمت دَاللّٰه تعالیٰ دے په محسود باندے اوتمنا دَ زوال دَنعمت ده دَغیرنه۔اوحسد گناه کبیره دے اوحدیث کښ وارد دی چه یأکل الحسد الحسنات کما تأکل النارالحطب(حسد نیکولره داسے خوری لکه چه اوراوچ خشاك لره خوری) او حسد اول گناه دے چه په اسمان کښ ابلیس دَ آدم علیه السلام سره کړے وؤ اواول گناه دے په زمکه کښ چه قابیل دَخپل رورهابیل سره کړے وؤ﴿اِذَاحَسَدَ﴾ دا قید ئے دَ دے وجے نه اولگوؤچه کله دَانسان په زړه کښ حسد بے اختیاره وی لیکن پټ ئے ساتی اومحسود ته هیڅ ضرر رسول نه غواړی نودَ دے گناه نیشته اوهرکله چه په لاسونواوژبے سره هغه ته ضرررسوی اوپه سترګوسره هغه نظره کوی نو دا شرّ حسد دے اودَ دے په وجه سره اهلِ قرآن ته لوئے رکاوټ پیداکیږی اوهغه لره دَ مقصد نه اړوی۔

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سُوْرَةُ النَّاس (۱۱۴) مَكِّيَّةٌ (۲۱) | اٰيَاتُهَا ٦ رُكُوْعَاتُهَا ١

قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ ۙ﴿۱﴾ مَلِكِ النَّاسِ ۙ﴿۲﴾ اِلٰهِ النَّاسِ ۙ﴿۳﴾ مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ ۙ الْخَنَّاسِ ۙ﴿۴﴾

ته اُوایه پناهی غواړم په رب دَ انسانانو (۱) بادشاه دَ انسانانو (۲) حقدار دَ بندګیٔ دَ انسانانو (۳) دَ شر دَ وسوسو اچوؤنکو نه چه پټیدونکے دے (٤)

سورة الناس

ربط : دَ دے سورة دَ محکمیں سره په ځلورو وجو سره دے اول داچه په هغه سورة کښ دَسحراوحسد نه استعاذه ذکرشوه نوپه دے سورة کښ استعاذه دَ منشاء دَ هغے دواړونه ذکرکوی چه وسواس دے۔ دویمه وجه داچه په هغه سورة کښ فلق (په معنیٰ دَ خلق) ذکرشونو په دے سورة کښ اشرف دَ خلقوذکرکوی چه الناس دی یعنی تخصیص بعد التعمیم دے۔ دریمه وجه دا ده چه په هغه سورة کښ دَ اللّٰه تعالیٰ یو صفت ذکردے او په دے سورة کښ دَ هغه درے صفتونه ذکردی۔ څلورمه وجه داده چه په هغه سورة کښ تعوذ وؤ دَ شر دَ مصائبوخارجیونه اوپه دے سورة کښ تعوذ دے دَ شردَ مصائبو داخلیونه۔

دعویٰ دَ سورة : امر دے په تعوذ سره دَ شر دَ وسواس نه۔

خلاصه دَ سورة : امر دے په تعوذ بالرب سره او درے صفتونه دَ اللّٰه تعالیٰ ذکردی۔رب، ملك، اِله او درے اوصاف دَمستعاذمنه ذکر دی ۔وسواس، خناس، الذی یوسوس فی صدور الناس۔

تفسیر

[۱] ﴿بِرَبِّ النَّاسِ﴾ خالق ئے نه دے وئیلے ځکه چه صفت دَ رب دَ استعاذه سره مناسبت لری چه استعاذه کښ معنیٰ دَ حفاظت ده اوحفاظت سره تربیت مناسبت لری۔ او (رَبٌّ) دَ تربیت نه ماخوذ دے اومراد دَ تربیت نه دا دے چه دا انسان ئے پیداکړے دے اودَ هغه دَ پالنے ځیزونه اللّٰه تعالیٰ پیداکړی دی اوپیداکوی، اوباران وروی بوټی را اوباسی دانے اومیوے پخه وی اوبه ئے پیدا کړیدی اورئیے پیداکړیدے انسان ته ئے دَ خوراك اودَ هضم اسباب ورکړی دی۔

[۲] ﴿مَلِكِ﴾ دَ مُلك نه ماخوذ دے او ملوکیت وئیلے شی تسلط په انتظام کولو اوحکم کولو کښ او په رعیت باندے اطاعة دَملِك واجب وی نو په دے کښ اشاره ده توحید فی الحکم والطاعة والتحلیل والتحریم ته ۔

[۳] ﴿اِلٰهِ﴾په معنیٰ مشهورے سره دے حقدارد بندګئے ته وئیلے شی اواطلاق ئے په هغه ذات کیږی چه مخلوق ورته حاجتونه پیش کوی۔

فائِده:دَ دے درے صفتونودَ تخصیص دپاره ډیروجوه دی اوله وجه دا ده چه په دے صفتونوکښ ترتیب واقعی دے هغه دا دے چه اول عقیده دَ ربوبیت ضروری ده نوپه هغے کښ اشاره ده چه دَ ټولوانعاماتوخالق اومالك اوورکوؤنکے اللّٰه تعالیٰ دے بیاکه څوك وهم اوکړی چه هغه انعامات راکړی دی نو ټول زمونږ دَپاره مباح دی لکه فرقه اباحیه اونظریه اشتراکیت والا دا عقیده لری یا څوك او وائی چه تحلیل تحریم په

الَّذِیْ یُوَسْوِسُ فِیْ صُدُوْرِ النَّاسِ ۙ﴿۵﴾ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ ﴿۶﴾

هغه چه وسوسے اچوی په سینو دَ انسانانو کښ (۵) دَ پیریانو او دَ انسانانونه (٦)

دے انعاماتو کښ دَاقتدارواﻟﻮ اختیار دے څوك وائی چه دَ امامانو اوعلماؤ اختیاردے څوك وائی دَپیرانواختیار دے نو دَ دے وهمونو جواب ئیے اوکړوپه مَلِكِ النَّاسِ سره یعنی هغه بادشاه اواختیار دَ حِل اوحرمت دَ هغه دے څه ئیے حلال کړی دی اوڅه ئیے حرام کړی دی بیا که څوك وهم اوکړی چه په مونږ دَ هغه تحریم اوتحلیل اواطاعت په څه سبب سره واجب دے نو جواب اوشوچه اِلٰهِ النَّاسِ، یعنی حقدار دَ عبدیت دے نو په مونږ باندے دَ هغه عبدیت فرض دے۔

فائِده: په دے کښ معلومه شوه چه توحید دَربوبیت مستلزم دے توحید دَ طاعة لره او هغه دواړه مستلزم دی توحید دَالوهیت لره او لوئے مقصد توحید دَ الوهیت دے دَد ے وجے نه په کلمه دَتوحید کښ لفظ الله ئیے ذکرکړے دے (لااِله اِلّااللّٰه) اوتوحید دَ الوهیت متضمن دے ټولو انواعو دَ توحید لره۔ دَ دے وجے نه قرآن کښ اخری ئیے داصفت ذکرکړو۔

[٤] په دے کښ ذکردَ مستعاذمنه دے اودَ هغه ئیے درے اوصاف ذکرکړی دی اول ﴿اَلْوَسْوَاسِ﴾ وسوسه په عرف کښ پټه القاء ده په نفس کښ دَ شر یا په پټ اواز سره چه صرف موسوس(هغه څوك چه وسوسه ورته کیدیشی) ئیے اوری یا بغیردَ اوازنه که دَ نفس دَ طرف نه وی یا دَ جنی دَ طرف یا دَ انسی دَ طرف نه وی اوهرکله چه پټه القاء دَ خیر وی نوهغے ته الهام وئیلے شی۔ دویم وصف ﴿اَلْخَنَّاسِ﴾ دَ خنس نه ماخوذ دے په شا باندے تلل اوپټیدل دی روستو دَ بنکاره کیدلونه اوپه روایت دَ ابن عباس رضی اللّٰه عنهما کښ دی چه شیطان کوډے لګولے دی په زړه دَابن آدم نوهرکله چه دا زړه غافل شی نو دے ورته وسوسے اچوی اوهرکله چه ذکرکوی اللّٰه تعالیٰ لره نو دے روستوشی اوپټ شی۔ اوپه دے وصف کښ لطیفه اشاره ده چه شیطان په اصل کښ کمزورے دُشمن دے ځکه چه دَ ذکردَ اللّٰه تعالیٰ مقابله نشی کولے۔

[٥] دا دریم وصف دے(سوال)دا صفت خودَ اول پشان دے نوولے ئیے دوباره ذکرکړو؟ (جواب) دا دے چه اول صرف وسوسه اچول دی اوپه دے کښ ذکر دَ محل دَ وسوسے دے چه صدور الناس دے۔ (سوال) وسوسے خو په زړه کښ راځی لکه نورو روایاتونه معلومه ده اومشهوره هم ده نو دلته ئیے دَ سینے ذکرولے اوکړو؟ (جواب) سینه دَ زړه دَپاره درشل ده نوزړه محل دے دَ ذکر دَ اللّٰه تعالیٰ خاص دے په ذکر اللّٰه پورے نو شیطان له دا طاقت نه ورکوی چه زړه ته دننه ورداخل شی نو دے دَ سینے په واسطے سره زړه ته القاء کوی ﴿فِیْ صُدُوْرِ النَّاسِ﴾ کښ دوه احتمالونه دی اول داچه ظاهری معنیٰ مراد ده اومراد دا دے چه شیطان جنی او انسی کوشش کوی چه وسوسه دَ دهٔ دَ انسان زړه ته اورسیږی۔ دویم احتمال دا دے چه دا ذکر دَ محل دے او مراد ترینه حال دے یعنی عقیده او ایمانیات نومراد دا دے چه شیطان جنی اوانسی دَ عقیدے په باره کښ اول اوډیرے وسوسے اچوی کفر اوشرك ته انسان راکاږی ځکه چه عقیده ئیے خرابه شی نو ټول اعمال په هغے سره باطل ګرځی نو دا جمله (الذی یوسوس) روستو دَ الوسواس نه تخصیص بعد التعمیم دے۔

[٦] دا بیان دے دَ الذی یوسوس دَپاره ۔یعنی وسوسه اچوؤنکے دوه قسمه دے یو قسم دَ جناتونه دے

اوبل قسم دَ انسانانونه دے اودَ دے تائیدپه انعام(۱۱۲)کښ دے بیاوسوسه دَ شیطان انسی په واسطه دَ غوګونوسره ده چه په دغه واسطے سره وسوسه زړه ته رسوی اووسوسه دَ شیطان جنی په ډیرو طریقو سره وی کله په بدن دَ انسان کښ داخل شی سینے ته اورسی اوکله په شکل دَانسان سره جوړشی اودَهغه غوږکښ وسوسه اچوی لکه چه حدیث صحیح کښ راغلی دی چه شیطانان دَ ملائکونه دَ بعضِ خبروغوګ سارنه اوکړی اوبیائیے په غوګونو دَ کاهنانو(ترویتیانو) کښ اچوی او ورسره نورسل دروغ جوړکړی۔

اَللّٰهُمَّ اجْعَلِ الْقُرْآنَ رَبِيْعَ قُلُوْبِنَا وَجَلَاءَ هُمُوْمِنَا وَغُمُوْمِنَا۔ اَللّٰهُمَّ اَقْسِمْ لَنَا مِنْ خَشْيَتِكَ مَاتَحُوْلُ بِهٖ بَيْنَنَا وَبَيْنَ مَعَاصِيْكَ وَمِنْ طَاعَتِكَ مَاتُبَلِّغُنَا بِهٖ جَنَّتَكَ وَمِنَ الْيَقِيْنِ مَاتُهَوِّنُ بِهٖ عَلَيْنَا مُصِيْبَاتِ الدُّنْيَا وَمَتِّعْنَا بِاَسْمَاعِنَا وَاَبْصَارِنَا وَقُوَّاتِنَا مَا اَحْيَيْتَنَا وَاجْعَلْهُ الْوَارِثَ مِنَّا وَاجْعَلْ ثَارَنَا عَلٰى مَنْ ظَلَمَنَا وَانْصُرْنَا عَلٰى مَنْ عَادَانَا وَلَا تَجْعَلْ مُصِيْبَتَنَا فِيْ دِيْنِنَا وَلَا تَجْعَلِ الدُّنْيَا اَكْبَرَ هَمِّنَا وَلَامَبْلَغَ عِلْمِنَا وَلَاتُسَلِّطْ عَلَيْنَا مَنْ لَّايَرْحَمُنَا۔اَللّٰهُمَّ زِدْنَا وَلَاتَنْقُصْنَا وَاَكْرِمْنَا وَلَاتُهِنَّا وَاَعْطِنَا وَلَاتَحْرِمْنَا وَآثِرْنَا وَلَاتُؤْثِرْعَلَيْنَا وَارْضِنَا وَارْضَ عَنَّا۔اَللّٰهُمَّ آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَاعَذَابَ النَّارِ۔ رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا اِنَّكَ اَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ۔ رَبَّنَا اغْفِرْلَنَا وَلِاِخْوَانِنَا الَّذِيْنَ سَبَقُوْنَا بِالْاِيْمَانِ وَلَاتَجْعَلْ فِيْ قُلُوْبِنَا غِلًّا لِّلَّذِيْنَ آمَنُوْا رَبَّنَا اِنَّكَ رَؤُفٌ رَّحِيْمٌ۔ رَبَّنَا اغْفِرْلَنَا ذُنُوْبَنَا وَكَفِّرْعَنَّا سَيِّئَاتِنَا وَتَوَفَّنَا مَعَ الْاَبْرَارِ۔ رَبَّنَا لَاتُزِغْ قُلُوْبَنَا بَعْدَ اِذْهَدَيْتَنَا وَهَبْ لَنَا مِنْ لَّدُنْكَ رَحْمَةً اِنَّكَ اَنْتَ الْوَهَّابُ۔ رَبَّنَا لَاتُؤَاخِذْنَا اِنْ نَّسِيْنَا اَوْ اَخْطَاْنَا رَبَّنَا وَلَاتَحْمِلْ عَلَيْنَا اِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهٗ عَلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِنَا۔ رَبَّنَا وَلَاتُحَمِّلْنَا مَالَاطَاقَةَ لَنَا بِهٖ وَاعْفُ عَنَّا وَاغْفِرْلَنَا وَارْحَمْنَا اَنْتَ مَوْلٰينَا فَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ۔ اَللّٰهُمَّ آمِيْن۔

سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّايَصِفُوْنَ وَسَلَامٌ عَلَى الْمُرْسَلِيْنَ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ۔


عبد السلام بن عبدالرؤف

مدیر: جامعه تعلیم القرآن رستم مردان

والجامعة العربية لاشاعة التوحيد والسنة السنيه

بلده بیرکوهاټ روډ پیښور۔

١٦ جمادى الثانية ١٤٢٣هـ



ہر قسم اسلامی، درسی و غیر درسی کتابیں
سکین اور پرنٹ کی جاتی ہیں

الرشید ڈیجیٹل فوٹو سٹیٹ

مین بس سٹاپ اسماعیلہ (صوابی)

0315-8349720 0301-8349720